قرآن کریم

ترجمه او تفسیر

په پښتو ژبه کښې

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ



ددې قرآنکریم او ورسره دپښتو ترجمې او تفسیر دچاپ د امر سعادت د
حرمینو شریفینو خادم پاچا سلمان بن عبد العزیز آل سعود ته حاصل شو

تَشَرَّفَ بِالأَمْرِ بِطِبَاعَةِ هَذَا المُصْحَفِ الشَّرِيفِ وَتَرْجَمَةِ مَعَانِيهِ
خَادِمُ الحَرَمَيْنِ الشَّرِيفَيْنِ المَلِكُ سَلْمَانُ بْنُ عَبْدِ العَزِيزِ آلُ سُعُودٍ
مَلِكُ المَمْلَكَةِ العَرَبِيَّةِ السُّعُودِيَّةِ

وقف لله تعالى من خادم الحرمين الشريفين
الملك سلمان بن عبد العزيز آل سعود
ولا يجوز بيعه
يوزع مجانًا



المجلد الأول
من بداية سورة الفاتحة إلى نهاية سورة الكهف

مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف

دا قرآنکریم د پښتو ترجمی او تفسیر سره د خادم
الحرمین الشریفین پاچا سلمان بن عبد العزیز آل سعود
لخوا د الله تعالی د رضا لپاره وقف دی
خرڅول يې منع دي
وړيا ويشل کيږي

لومړی ټوک
د سورة الفاتحة له پیل څخه د سورة الکهف تر پاي پورې

په مدینه منوره کښې دقرآنکریم د چاپ لپاره د پاچافهد چاپخانه

بسم الله الرحمن الرحيم

مقدمة

بقلم معالي الشيخ: صالح بن عبدالعزيز بن محمد آل الشيخ
وزير الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد
المشرف العام على المجمع

الحمد لله رب العالمين، القائل في كتابه الكريم:

﴿... قَدْ جَاءَكُم مِّنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُّبِينٌ﴾.

والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين، نبينا محمد، القائل:
«خيركم من تعلَّم القرآن وعلَّمه».

أما بعد:

فإنفاذاً لتوجيهات خادم الحرمين الشريفين، الملك سلمان بن عبدالعزيز آل سعود، -حفظه الله-، بالعناية بكتاب الله، والعمل على تيسير نشره، وتوزيعه بين المسلمين، في مشارق الأرض ومغاربها، وتفسيره، وترجمة معانيه إلى مختلف لغات العالم.

وإيماناً من وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد بالمملكة العربية السعودية بأهمية ترجمة معاني القرآن الكريم إلى جميع لغات العالم المهمة تسهيلاً لفهمه على المسلمين الناطقين بغير العربية، وتحقيقاً للبلاغ المأمور به في قوله ﷺ: «بلِّغوا عني ولو آية».

وخدمة لإخواننا الناطقين بلغة البشتو يطيب لمجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف بالمدينة المنورة أن يقدم للقارئ الكريم هذه الترجمة لمعاني القرآن الكريم إلى لغة البشتو المسماة بـ «تفسير كابلي» وهي التي أعدّها هيئة من علماء أفغانستان بتحويلها من اللغة الأردية، وقد راجعها من قبل المجمع لجنة مؤلفة من الدكتور محمد بلال محمد أمين، والدكتور عبد السميع عبدالأول، والدكتور إسماعيل محمد عبد الغفار.

ونحمد الله سبحانه وتعالى أن وفق لإنجاز هذا العمل العظيم الذي نرجو أن يكون خالصاً لوجهه الكريم، وأن ينفع به الناس.

إننا لندرك أن ترجمة معاني القرآن الكريم -مهما بلغت دقتها- ستكون قاصرة عن أداء المعاني العظيمة التي يدل عليها النص القرآني المعجز، وأن المعاني التي تؤديها الترجمة إنما هي حصيلة ما بلغه علم المترجم في فهم كتاب الله الكريم، وأنه يعتريها ما يعتري عمل البشر كلَّه من خطأ ونقص.

ومن ثم نرجو من كل قارئ لهذه الترجمة أن يوافي مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف بالمدينة النبوية بما قد يجده فيها من خطأ أو نقص أو زيادة للإفادة من الاستدراكات في الطبعات القادمة إن شاء الله.

والله الموفق، وهو الهادي إلى سواء السبيل، اللهم تقبل منا إنك أنت السميع العليم.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

سريزه

د اسلامي چارو، اوقافو، دعوت او ارشاد وزير او په مدينه منوره کښې دقرآنکريم د چاپ لپاره د پاچا فهد مرکز د اعلى سرپرست عاليقدر شيخ صالح بن عبد العزيز بن محمد آل الشيخ ليکنه

الحمد لله رب العالمين، القائل في كتابه الكريم: ﴿... قَدْ جَاءَكُمْ مِنَ اللهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُبِينٌ﴾ المائدة: ١٥، يعني بي شکه تاسو ته د الله تعالى لخوا رڼا او داسې کتاب راغلې دې چه پخپله هم واضح او د حق او باطل واضح کونکې هم دې، يعنى قرآنکريم.

والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين، نبينا محمد القائل: «خَيْرُكُمْ مَنْ تعلَّمَ القُرآنَ وَعَلَّمَه»، يعنى په تاسو کښې بهتر او غوره هغه څوک دې چه پخپله قرآنکريم زده کړي، او هم يې نورو ته وښايي... أما بعد:

د سعودى عربستان پاچا خادم الحرمين الشريفين سلمان بن عبد العزيز آل سعود حفظه الله دهغه امر په اساس چه په قرآنکريم دي هر اړخيز اهتمام وشي، او د نړۍ په شرق او غرب کښې دى مسلمانانو ته قرآنکريم او د هغه د معانيو ترجمه او تفسير په بيلابيلو ژبو سره خپور او ورورسول شي.

همداراز د اسلامي چارو، اوقافو او دعوت وارشاد وزارت پدى باور دې چه د قرآنکريم د معانيو ترجمه او تفسير د نړۍ مهمو ژبو ته ژباړل خورا ډير اهميت لري، تر څو چه غير عرب مسلمانان په قرآنکريم او د هغه په معنى او تفسير او په هغې کښې په رااليږل شوو احکامو باندې په آسانۍ سره پوهه شي، او د رسول الله ﷺ هغه حکم عملي شي چه فرمايي: «بلِّغوا عَنّي ولو آية»، يعنى ځما لخوا ددين احکام نورو خلکو ته ورسوئ اګر که يو آيت کريمه هم وي.

نو په همدى خاطر د پښتنو او پښتو لوستونکو وروڼو سره د خواخوږۍ او د هغوئ د خدمت لپاره په مدينه منوره کښې د قرآنکريم د چاپ لپاره د پاچا فهد دچاپونې مرکز ډير په خوشحالۍ سره پښتنو او دپښتو ژبې لوستونکو وروڼو ته دقرآنکريم د معانيو دا ترجمه او تفسير وړاندى او (ډالۍ) کوي.

دا ترجمه او تفسير په اصل کښې په اردو ژبه ليکل شوي وو، او بيا د افغانستان دعلماؤ د يو ټولي لخوا پښتو ژبې ته ژباړل شوې، چه په «کابلي» تفسير شهرت لري، او د «مجمّع» لخوا د يو علمي هيئت (دکتور محمد بلال «امينى»، دکتور عبد السميع، او دکتور اسماعيل) لخوا د هغى مراجعه او نظر ثاني شوې دې.

د الله جل جلاله ډير شکر ګزار يو چه ددي لوي کار د پوره کيدو توفيق يې راکړ، اود الله سبحانه وتعالى څخه اميد لرو چه زمونږ دا عمل خالص د خپلې رضا لپاره وګرزوي، او ددي جوګه شي چه خلک ورڅخه استفاده وکړي.

مونږ پوهيږو چه د قرآنکريم دمعانيو ترجمه او ژباړه- که هر څومره دقيقه هم وي- کله د هغو لويو معانيو ترجماني کولې شي کوم چه د قرآنکريم په الفاظو کښې نغښتى وي؛ ځکه دا ترجمه خو يواځى د هغو معانيو تعبير او ژباړه ده چه دمترجم او ژباړن علم د قرآنکريم په پوهه او فهم کښې ورته رسيدلې دې.

نو دا ترجمه او تفسير هم لکه د هر انساني او بشري عمل په څير د خطا او نقصان څخه محفوظ نه ده، نو له دى کبله له هر محترم لوستونکي څخه هيله کوو چه که پدي ترجمه کښې ورته کومه خطا کمې او يا هم زياتې په مخه ورشي، نو په نبوي مدينه کښې د قرآنکريم د چاپ مرکز «مجمع الملك فهد» ته دي راواستوي، تر څو چه په راتلونکو چاپونو کښې ورڅخه استفاده وشي إن شاء الله تعالى، والله الموفق وهو الهادي الى سواء السبيل، اللهم تقبل منا إنك أنت السميع العليم.

د قرآنکریم د ترجمی او تفسیر په هکله لنډ معلومات

تمهید

قرآنکریم د الله تعالی هغه کلام دي چه حروف او معاني يي په خپل پيغمبر محمد ﷺ باندي رالیږلي دي، داسی پیغمبر چه د ټولو عالمونو لپاره رحمت دي، او هم مؤمنانو ته په نعمت او راحت زیرې ورکونکي او سر غړوونکو ته له عذاب او جهنم څخه ویروونکي دي، چه د الله تعالی په امر باندی دالله تعالی دین ته بلونکي او د عالم لپاره رڼا کوونکي څیراغ دي.

په راتلونکو څو صفحو کښی دقرآنکریم او دهغه د پیغام لنډه پیژندنه د لوستونکو مخی ته وړاندی کوو:

د قرآنکریم پیژندنه:

لومړي: د قرآنکریم پیژندنه، او دهغه د نومونو او صفتونو بیان:

قرآنکریم د الله جل جلاله هغه کلام دي چه پخپل پیغمبر محمد ﷺ يي نازل کړې دي، او دقرانکریم لفظ او معنا دواړه رسول الله ﷺ ته د وحيي په واسطه راغلي دي، په مصاحفو او قرآنکریمونو کښی لیکل شوې دي، او په تواتر سره له محمد ﷺ څخه تر اوسه پوری رانقل شوې دي، تلاوت او لوستل يي عبادت ګرزول شوې، او په لمونځونو کښی لوستل یی هم متعین دي.

او دا ډول وحيي چه الله سبحانه وتعالی په محمد ﷺ باندی نازله کړی ده، الله جل جلاله په قرآنکریم باندی نومولی ده، لکه چه فرمايي: ﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ تَنزِيلًا﴾ الدهر: ۲۳، يعني بيشکه مونږ په تا باندی -اې محمده- قرآنکریم لږ لږ او د ضرورت او حاجت په مناسبت رالیږلي دي؛ ځکه د قرآنکریم شان دا دي چه ولوستل شي، تلاوت يي وشي او مهمل پرینښودل شي.

همداراز الله جل جلاله ورته «الکتاب» هم ویلي دي، لکه چه فرمايي: ﴿إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ﴾ النساء: ۱۰۵، یعنی الله عز وجل فرمايـي: بیشکه لیږلي مو دي تا ته -أې محمد ﷺ- دا کتاب - قرآنکریم - په حقه؛ نو کتاب ورته ځکه ویل شوې چه د قرآنکریم شان دا دي چه ولیکل شي، او مهمل پرینښودل شي، تر څو له ضایع کیدو څخه وژغورل شي.

همدارنګه الله تعالی د قرآنکریم مختلف صفتونه بیان کړي دي، لکه:

«فرقان» یعنی: د حق او باطل ترمنځ فرق کونکي او بیانوونکي.

«ذکر» یعنی: پند او نصیحت.

«هُدًی» یعنی : پخپله هدایت، او هم هدایت کوونکي.

«نور» یعنی: پخپله رڼا، او مؤمنانو ته رڼا کوونکي.

«شفاء» یعنی: د روحي او بدني مرضونو لپاره روغتیا او شفا ده.

«حکیم» یعنی: د حکمتونو کتاب.

«موعظة» يعنى: د وعظ او نصيحت كتاب.

او همداسى نور ډير صفتونه چه د قرآنكريم په لوي شان او دهغه درسالت په كمال باندي دلالت كوي، الله تعالى پخپل قرآنكريم كښى ياد كړي دي.

قرآنكريم ته «مُصْحَف» ځكه ويل كيږي چه د«مصحف» كلمه له هغه صحيفو څخه اخستل شوى ده چه قرآنكريم به وربانده ليكل كيدلو.

او د«مصحف» نوم دصحابه كرامو رضي الله عنهم لخوا په هغه ليكل شوي كتاب باندي ايښودل شوې چه قرآنكريم پكښى ليكل شوې دي.

قرآنكريم د الله جل جلاله لخوا هغه وحيى ده چه جبريل عليه السلام د الله تعالى لخوا زمونږ د پيغمبر محمد ﷺ په زړه باندى نازل كړې دي، لكه چه الله جل جلاله فرمايي: ﴿وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ * نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلْأَمِينُ * عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلْمُنذِرِينَ * بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ﴾ الشعراء: ١٩٢ – ١٩٥.

ترجمه: بيشكه ددى قرآنكريم نازليدل دعالميانو دپالونكي لخوا شويدي، او راوړونكې يي جبريل أمين عليه السلام دي، او نازل كړې يي دې ستا پر زړه – أى محمد ﷺ –؛ ددي لپاره چه ته د الله سبحانه وتعالى له عذابونو څخه د ويروونكو له جملى څينى شى، او دا قرآنكريم په واضحه عربي ژبه باندى دي.

او زمونږ خوږ پيغمبر محمد ﷺ له نورو پيغمبرانو عليهم الصلاة والسلام څخه بدل او نا آشنا كوم شې نه دي راوړې؛ ځكه دده وروڼو مخكنيو پيغمبرانو عليهم الصلاة والسلام ته به هم جبريل عليه السلام له الله تعالى څخه وحيى راوړله، او الله جل جلاله پخپله ددي لوي امانت د اداء لپاره هغه څوك غوره كوي چه ورته خوښه يي شي، الله سبحانه وتعالى فرمايي: ﴿ٱللَّهُ يَصْطَفِى مِنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَمِنَ ٱلنَّاسِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ﴾ الحج: ٧٥.

ترجمه: الله سبحانه وتعالى غوره كوي له فرښتو نه رسولان، او هم يي غوره كوي -پيغمبران- له انسانانو څخه، بيشكه الله جل جلاله اوريدونكې او ليدونكې دي.

او الله عز وجل هغه څوك ډير ښه پيژني چه د رسالت او نبوت لپاره صالح او مناسب وي، او هم هغه څوك چه ددي امانت لپاره صالح نه وي؛ ځكه دا ټول خلك د الله تعالى مخلوق دي، او هم هغه يي ښه پيژني، الله سبحانه وتعالى فرمايي: ﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ﴾ القصص: ٦٨.

ترجمه: ستا رب جل جلاله پيدا كوي هغه څه چه و يي غواړي، او غوره كوي هغه څوك چه و يى غواړي.

دوهم: د قرآنكريم نزول:

په پيغمبر محمد ﷺ باندي د وحيى نزول د دوشنبى په ورځ د رمضان د مياشتى په اوولسم تاريخ، شپږ سوه لسم ميلادي كال باندي په غار حراء كښى شروع شو، چه حراء دمكى مكرمى له غرونو څخه يو غر دي، كله چه جبريل عليه السلام محمد ﷺ ته غار حراء ته راغلو او دا آياتونه يي وربانده نازل كړل چه: ﴿ٱقْرَأْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ * خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِنْ عَلَقٍ * ٱقْرَأْ وَرَبُّكَ ٱلْأَكْرَمُ * ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ * عَلَّمَ ٱلْإِنسَٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴾ العلق: ١ – ٥.

ترجمه: ولوله ! په نوم د هغه رب او پالونکي چه دا هر څه يي پيدا کړي دي، او انسان يي له يوې توټې وينې څخه پيدا کړې دې، ولوله، او ستا رب او پالونکې ډير عزتمند او د مهربانۍ خاوند دې، هغه الله چه ښودنه يي کړې ده په قلم باندي، او انسان ته يي هغه څه ښودلي دي، چه مخکې له دي څخه پرې نه پوهيده.

او دقرآنکريم همدا آياتونه لومړني آياتونه دي چه په رسول الله ﷺ باندي نازل شوي دي.

بيا پيغمبر ﷺ له دغه آيتونو سره خپل کور ته په داسې حال کښې لاړ چه زړه يي له ويرې څخه رپيده، او خپله قصه يي خپلې بي بي أم المؤمنين خديجه بنت خويلد رضي الله عنها ته وکړه، او ورته يي وويل: «بي شکه چه زه خو پخپل ځان باندي ووريدم».

هغې ورته وويل: «هيڅکله داسې نه ده، ته مه ويريږه، بلکه ته خوشحاله او مطمئن شه؛ زما دې په الله تعالى قسم وي چه الله تعالى هيڅکله تا نه شرموي؛ ځکه ته له خپلوانو سره خپلوي پالې، او له هغوي سره نيکي او ښېګړه کوې، او په خبرو کښې رښتيا وايې، او ټپ شوى او کمزورى له ځان سره په سورلۍ سوروى، او ميلمنو ته ميلمستيا ورکوي، او په هر ډول پيښو کښې له خلکو سره مرسته او کومک کوى».

بيا يي هغه ورقة بن نوفل ته بوتلو؛ ځکه هغه يو عالم او هوښيار سړي وو، نو خديجى رضي الله عنها ورته وويل: «أى کاکا ! ته خو دي ددي وراره قصه واوره» چه دې څه وايي؟

کله چه پيغمبر ﷺ خپله قصه وکړه، او هغه څه چه يي ليدلي وو ورته يي وويل، ورقة بن نوفل ورته وويل: «همدا ناموس يعنى جبريل عليه السلام همغه پرښته ده چه موسى عليه السلام ته يي هم وحيى راوړې وه، اي ارمان چه زه په هغه وخت کښې يو تکړه ځوان واي، او ارمان چه زه په هغه وخت کښې ژوندې واي کله چه تا خپل قوم له خپل کلي کور څخه وباسي» يعنى ما به ستا مرسته او کومک کړې وو.

نو رسول الله ﷺ ورته وويل: (آيا دوي به ما له خپل کلي هم وباسي؟)، ورقة ورته وويل: «هو، هيڅا دغه ستا په څير دين نه دې راوړې مګر له هغه سره دښمني شوى ده، او که زه هغه وخت ته ورسيدم چه ته پکښې ددغه دين اعلان کوى نو زه به ستا په کلکه مرسته او کومک وکړم»، خو ورقة بن نوفل بيا لږ وخت وروسته وفات شو.

او قرآنکريم په رسول الله ﷺ باندي ټول يو ځل نه دې نازل شوې، لکه چه مخکني کتابونه په پخوانيو پيغمبرانو عليهم الصلاة والسلام باندي ټول يو ځل نازل شوي وو.

بلکه قرآنکريم ددرويشتو کلنو په زمانه کښې لږ لږ او ټوټه ټوټه نازل شوې دې، کله به پوره سورت نازليده، او کله به د کوم سورت يو څو آياتونه نازليدل.

د قرآنکريم په لږ لږ او ټوټه ټوټه نازليدو کښې حکمت دا وو چه د خوږ پيغمبر محمد ﷺ زړه وربانديې کلک او قوي شي، او کله چه جبريل عليه السلام ورته وحيى راوړې نو ده ته وربانډى قوت حاصليږى او ملا يي پرى کلکيږي؛ تر څو د پيغمبرى په لمړنيو شيبو کښې د مشرکانو د سرغړونې او سر تمبګى، او دهغوي ددي دين سره ددښمنى په مقابل کښې ورته قوت او ثابت قدمي حاصله شي.

لکه چه الله سبحانه وتعالى فرمايي: ﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً ۚ كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ ۖ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا﴾ الفرقان: ٣٢.

ترجمه: او وايي کافران چه: ولی نه نازلولې شي په محمد ﷺ باندې قرآنکريم ټول يو ځلی؟ نو فرمايي الله جل جلاله چه: نازل کړې مو دې دا قرآنکريم لږ لږ ددې لپاره چه قوي کړو پدې قرآنکريم سره زړه ستا- په حفظ او فهم د معنی سره- او لوستلې دې مونږ دا قرآنکريم پر تا باندې لږ لږ په آرام لوستلو سره.

همداراز د قرآنکريم په لږ لږ نزول کښې يوه بله تربوي او روزنيزه ګټه شته او هغه دا چه مؤمنان هم د قرآنکريم په زده کړه او د هغه د احکامو په پوهيدو کښې په تدريجي شکل سره اشنا شي، چه پدې توګه د هغی زده کول په هغی باندی په عمل کولو کښې وار او تدرج وکړې شي؛ ترڅو د هغی زده کول او پری پوهيدل، او هم په هغی باندې د کفر او شرک له تيارو څخه د ايمان او توحيد رڼا طرف ته وتل ورته آسان وي.

دريم: د قرآنکريم تدوين او ليکنه:

د نصوصو د حفظ او ساتنې تر ټولو ښه وسيله د هغه ليکل دي، او هغه نص او خبره چه ونه ليکل شي د هيريدو امکان او احتمال يې ډير وي، او هر کله چه قرآنکريم دقيامته پورې د خلکو د هدايت او لارښوونې لپاره نازل شوې وو، نو ډير ضروري او اړين وو چه وليکل شي.

نو ځکه خو قرآنکريم د پيغمبر محمد ﷺ له ځانګړې اهتمام څخه برخمن وو، پدې غرض يې خپلو ځينو هغو ملګرو او اصحابو رضي الله عنهم ته -چه ليک لوست يې زده وو- امر کړې وو چه قرآنکريم وليکي، او هغوي يې د قرآنکريم لپاره خپل کاتبان او ليکوالان ټاکلي وو، چه په هغوئ کښې ډير مشهور زيد بن ثابت الأنصاري رضي الله عنه وو.

په رسول الله ﷺ چه به کله د قرآنکريم وحيی راغله، نو لومړې به يې هغه پخپله حفظ کولو، او بيا به يې دغه وحيی يو کاتب او ليکوال صحابي باندې ولوستلو چه ويی ليکي، او ويل به يې: (ضعوا هذه الآيات فی السورة التي يُذكَرُ فيها كذا وكذا).

يعنی دا آياتونه په هغه سورت کښې کيږدئ چه فلانی فلانی شي يادونه پکښې شوی ده.

نو هغوئ ته به يی ددغه آياتونو لپاره همغه ټاکلې سورت او دهغو ځای ورپه ګوته کړ، او امر به يی وکړ چه دغه آياتونه پکښې وليکل شي، بيا به يی د هغه نازل شوي قرآنکريم په هکله خپلو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته امر وکړ چه په دغو آياتونو ځان پوهه کړي، او هم دغه آياتونه حفظاً له يادو زده کړي، او په همدي توګه ټول قرآنکريم زمونږ دخوږ رسول الله ﷺ په ژوند کښې په ټوټو او څرمنو کښې وليکل شو.

او جبريل عليه السلام به له رسول الله ﷺ سره هر کال يو ځل قرآنکريم اړولو، او په هغه کال چه رسول الله ﷺ وفات کيدلو دوه ځلی يې ورسره واړولو، او دا اړول د سورتونو او آياتونو په همدی ترتيب سره وو چه اوس په مصاحفو کښې ليکل شوې دې، او د مسلمانانو په لاس کښې وجود لري؛ تر څو د الله تعالی هغه وينا رښتينی او محققه شي چه فرمايي: ﴿إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ * فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ﴾ القيامة: ١٧ – ١٨.

ترجمه: بيشكه پر مونږ باندي راجمع كول او راټولول ددي قرآنكريم دي په سينه ستا كښې، او لوستل ددى قرآنكريم دي پر ژبه ستا، نو كله چه مونږ ولوست دا قرآنكريم په ژبه د ملائكو، نو ته يي متابعت وكړه ددغه لوستلو، يعنى غوږ ورته نيسه.

همدارنګه الله سبحانه وتعالى فرمايلي دي: ﴿سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسَىٰ﴾ الأعلى: ۶.

ترجمه: زر دې چه مونږ به ولولو پر تا باندي قرآنكريم په ژبه د جبريل اې محمد ﷺ نو بيا به يي ته نه هيروى.

څلورم: په صحيفو او ورقو كښې د قرآنكريم راجمع كول او راټولول:

د رسول الله ﷺ له وفات څخه وروسته لومړني راشد خليفه ابوبكر الصديق رضي الله عنه امر وكړ چه قرآنكريم په منظمو او مرتبو صحيفو كښې راټول شي؛ ځكه كه د قرآنكريم حافظان وفات شي او يا هم هغه ټوټې او څرمنې چه قرآنكريم وربانديي ليكل شوې دې، تلف شي، نو چه دقرآنكريم كومه برخه له منځه ولاړه نشي، او ددي كار مشري د وحيى پخواني كاتب او ليكوال زيد بن ثابت رضي الله عنه په غاړه واخستله.

او كله چه قرآنكريم راټول شو، او د هغى دوباره كتنه او له صحت څخه ښه تأكد وشو چه دا ليكلې مصحف له هغه قرآن سره بلكل موافق او مطابق دې كوم چه په ټوټو او څرمنو كښې ليكل شوې او له هغه سره چه خلكو حفظاً په يادو ياد كړې وو، بيا نو دغه مصحف د ابوبكر الصديق رضي الله عنه په كور كښې وساتل شو.

او كله چه هغه وفات شو، نو بيا ددوهم خليفه عمر بن الخطاب رضي الله عنه په كور كښې وساتل شو، او كله چه هغه هم وفات شو، نو د أم المؤمنين حفصة بنت عمر رضي الله عنهما په كور كښې وساتل شو.

او كله چه د اسلام مقدس دين په نړۍ كښې خپور شو، او مسلمانان دى ته اړ شول چه له دوي سره دى ليكل شوي قرآن كريمونه وي چه په هغو كښې قرآنكريم لولي، نو ځينى صحابه كرامو رضي الله عنهم دريم خليفه عثمان بن عفان رضي الله عنه ته مشوره وركړه چه د ټولو مسلمانانو لپاره يو مصحف وليكل شي، او په هغى باندي ټول مسلمانان سره راټول شي، او د اوسنو او روستنو مسلمانانو لپاره د امام او معتمدى نسخى په توګه وټاكل شي، نو عثمان بن عفان رضي الله عنه د صحابه كرامو هغه يو ټولي ته امر وكړ چه د قرآنكريم له حافظانو څخه وو، او ليكل يي هم زده وو، چه دغه كار په غاړه واخلي، چه ددوي سر كښې هم زيد بن ثابت رضي الله عنه راتلو.

او په دى كار كښې ددوي اعتماد به په هغه مصحف او صحيفو باندى وي چه د أبوبكر الصديق رضي الله عنه په وخت كښې پكښې قرآنكريم ليكل شوې وو، نو هغوئ دغه ټولى صحيفى په يو مصحف كښې راټولى كړې، او له هغى څخه يي څو نسخى وليكلى، او هر يو لوي اسلامي ښار ته ترى يوه يوه نسخه وليږل شوه، او بيا يي نورو مسلمانانو ته امر وكړو چه له دغى معتمدى نسخى څخه ځانته نور مصاحف وليكي.

اوس په نړۍ كښې ټول مصحفونه - هغه كه خطي نسخى وي، او كه چاپ شوي مصحفونه وي - ددي ټولو اصل همغه مصحفونه دي چه د عثمان بن عفان رضي الله عنه په زمانه كښې ليكل شوي او

بيا نورو غټو غټو اسلامي ښارونو ته ليږل شوي دي، او ټول له هغو سره يو شان دي، او له هغو سره هيڅ اختلاف - په نص او ترتيب کښې - نلري.

او ترنن ورځې همدا لړۍ روانه ده چه مسلمانان د مصحف شريف په چاپولو ډير ښه اهتمام کوي، او د چاپ دنوو وسايلو او نوی ټکنالوژۍ سره برابر او له هغو څخه په استفاده مسلمانان کوښښ کوي چه دقرآنکريم د نص ضبط په ډيره ښه اعلی درجی سره وشي، او په هغه رسم او طرز باندي وليکل شي په کوم چه د عثمان بن عفان رضي الله عنه په زمانه کښې ليکل شوې وو، کوم چه په رسم عثماني باندي پيژندل کيږي.

په نبوي مدينه کښې د قرآنکريم د چاپ لپاره د ملک فهد مرکز هم ددغې لړۍ يوه ښکاره نښه ده، چه په قرآنکريم او دهغې په خدمت باندي د مسلمانانو عموماً او سعودي عربستان د حکومت خصوصاً د ډير زيات اهتمام او حرص ښکارندوي دې، چه دوي خپل نهايي کوښښ او زيار باسي چه په ډير ښه ډول د قرآنکريم خدمت وشي او د نړۍ مسلمانان په آسانۍ سره وکولې شي چه قرآنکريم ورته په ډير ښايسته چاپ، مزيدار شکل، ښه تجليد او په پوره حفظ او اتقان سره په لاس ورشي.

پنځم: د مصحف شريف ترتيب او تقسيم:

قرآنکريم د «الفاتحة» په سورت باندې شروع کيږي، او د «الناس» په سورت باندي پاي ته رسيږي، او ټول سورتونه يي (۱۱۴) يو سل او څوارلس دي، او دا ترتيب يي توقيفي دې، يعنی له رسول الله ﷺ څخه رانقل شوې دې، او همدا موجوده مصحف په نزولي ترتيب باندي مرتب نه دې؛ ځکه په نزول کښې لومړنې سورت د «العلق» سورت دې، او هغه په مصحف کښې (۹۶)م سورت دې، او صحابه کرامو رضي الله عنهم به د آياتونو او سورت ترتيب د رسول الله ﷺ له قراءت څخه پيژندلو، کله چه به هغه ﷺ قرآنکريم لوستلو.

او اوسني مصاحف (۳۰) ديرش پارو ته ويشل شوې دې، او هره پاره يي دوه (نصفونو، نيمو) او څلورو پاوونو ته ويشل شوی ده، او دا تقسيم اکثر يي د علماوو د اجتهاد په اساس دې، او غرض يي دا دې چه د قرآنکريم لوستل ورته پدې شکل آسان وګرزي، او په تلاوت او حفظ کښې مسلمانان وکولې شي اندازه يي کړي، او په آسانه يي اندازه وپيژني.

شپږم: د قرآنکريم زده کول:

مسلمانانو د قرآنکريم په زده کولو او دهغې د نص په حفظ کولو او دهغې په تلاوت او لوستلو باندي ډير سخت اهتمام کړې دې، تر څو هغه شان يي ولولي لکه چه په رسول الله ﷺ باندې نازل شوې دې، دصحابه کرامو رضي الله عنهم قاريانو او حافظانو دغه قرآنکريم - هغه شان چه يي له رسول الله ﷺ څخه زده کړې وو- خپلو شاګردانو تابعينو ته ورزده کړ، ترڅو دقرآنکريم نص يې ورته ضبط کړ، او په هر آيت کريمه کښې به يي ودرول ترڅو په معنا يې ښه پوهه شي، چه په دي توګه تابعين رحمهم الله په قرآنکريم ښه پوهه شول، او هم يې پرې عمل کول زده کړل.

بيا د تابعينو حافظانو او دقرآنکريم متخصصينو علماو د قرآنکريم د لوست او لولولو لپاره مدرسې جوړې کړې، او په هغه طريقه به يي خپلو شاګردانو ته قرآنکريم ورزده کولو کومه طريقه چه دوي له

صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه زده کړی وه، لکه په مختلفو وجوهو سره دقرآنکریم تلاوت کول، د نص ضبط او حفظ، د حروفو او کلماتو شمار، د سورتونو او آیاتونو ترتیب، د قراءت اتقان او دترتیل کیفیت، نو پدي ډول همغه شان چه دوي قرآنکریم زده کړې وو، همغه طریقه مسلسله پاتی شوه، چه قرآنکریم لفظ او معاني زده کیږي، او الفاظ يي حفظاً یادیږي، او په همغه ډول لوستل کیږي، او هر زده کونکې يي له خپل شیخ او معلّم او قاري څخه مخامخ خوله په خوله په عربي فصیحه ژبه ترو تازه - لکه څرنګه چه په رسول الله ﷺ باندی نازل شوې وو - زده کوي.

قرآنکریم په بیلا بیلو قراءتونو باندي لوستل کیږي، چه په حقیقت کښی دا د قرانکریم د کلماتو، حروفو، او په هغه د نطق د طریقی څرنګوالې ښایي.

او دا قراءتونه هم تابعینو رحمهم الله له خپلو استاذانو حافظانو او قاریانو صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه زده کړي وو، او هغوي هم له رسول الله ﷺ څخه مخامخ زده کړي وو، او هغوي ته يي په دغه قراءتونو باندي د قرآنکریم د لوستلو اجازه هم ورکړی وه.

له دغه قراءتونو څخه په دی وخت کښي ډیر مشهور يي:

۱/ د عاصم رحمه الله قراءت دې کوم چه دهغه شاګرد حفص بن سلیمان رحمه الله يي روایت کوي.

۲/ د نافع رحمه الله قراءت دې کوم چه د هغه شاګرد عثمان بن سعید یی - چه د «ورش» په لقب شهرت لري- روایت کوي.

او له دوي څخه یو ددُوْرِي رحمه الله روایت دې چه له عَمْرو البصريّ رحمه الله څخه يي نقل کوي، او همدا شان د قالون روایت چه له نافع رحمه الله څخه يي نقل کوي.

اووم: د قرآنکریم تفسیر:

د قرآنکریم د تفسیر معنی: یعنی د هغی د معانیو وضاحت او بیان، او دیو کلام او خبری څخه هدف او مقصد هم تر هغه په لاس نه رائي تر څو چه اوریدونکې دهغه په معانیو او مفهوم پوهه نشي؛ نو ځکه خو الله تعالی د قرآنکریم لوستونکي دي ته هڅولي دي چه د قرآنکریم د معانیو په فهم او تدبر کښی سوچ او فکر وکړي، او هغه په پوره کوښښ زده کړي، لکه چه الله سبحانه وتعالی فرمایي: ﴿كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓا۟ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ﴾ ص: ۲۹.

یعنی الله تعالی فرمایي: دا قرآنکریم داسی کتاب دې چه مونږ تاته- اي محمد ﷺ - در نازل کړې دې، د برکت والا کتاب دې، او ددي لپاره مو درلیږلې دې چه دا خلک يي په آیاتونو کښي سوچ تدبر او فکر وکړي،او بل ددي لپاره چه عقلمند خلک ورڅخه پند او نصیحت واخلي.

او د تدبر معنی: په هغه پوهیدل او په هغه کښي سوچ او فکر کول.

کله چه به صحابه کرامو رضي الله عنهم ته د کوم آیت کریمه په معنی کښی اشکال پیدا شو او پوهه به پری نشو، نو رسول الله ﷺ به ورته د هغی تفسیر او توضیح کوله، خو لدي کبله چه هغوئ په هغه وخت کښی په لغت عربي کښی ښه مهارت لرلو، او قرآنکریم هم د هغوئ په ژبه نازل شوې وو، نو د قرآنکریم د ډیرو آیاتونو د تفسیر له پوښتنی څخه مستغني وو؛ ځکه دغه ډیر څه هغوئ ته معلوم

او ورځرګند وو، خو څومره چه کلونه او زمانه تیره شوه، او د نبوت د زماني نه خلک لری شول، نو هغومره د خلکو تفسیر ته ضرورت زیات شو.

نو هغه څه چه د قرآنکریم د آیاتونو په تفسیر کښې له رسول الله ﷺ، صحابه کرامو رضي الله عنهم او دهغوئ له شاګردانو تابعینو څخه رانقل شوي دي د علم تفسیر لومړنی أساس تشکیلوي، چه هغی ته د علم تفسیر په اصطلاح کښې تفسیر بالمأثور وایي، کوم چه د قرآنکریم په فهم او پوهه کښې ډیره مهمه وسیله ګڼل کیږي.

ځکه دا ډول روایات مونږ ته د قرآنکریم په هکله د لومړنیو پیړیو فهم او پوهه څرګندوي؛ ځکه هغه پخوانی پیړۍ د قرآنکریم په فهم او د الله تعالی او درسول الله ﷺ په مراد باندي تر نورو ښه پوهیدل؛ پدي سبب چه یو خو هغوئ په لغت عربي کښې ډیره پوهه لرله، او بل دا چه دوئ هغه واقعات پخپله پخپلو سترګو لیدلي وو د کومو د حکم د بیان لپاره چه دغه آیاتونه نازل شوي وو.

۱/ د تفسیر انواع او ډولونه:

د علم تفسیر د علماو نظرونه دعلمي اهتمام په سبب بیلابیل دي، لدي کبله مختلف ډول تفسیرونه لیکل شوي دي، چه ځینې یې د قرآنکریم په لغوي اړخ زیات اهتمام کوي، ځینې نور یې بیا په قرآنکریم کښې د فقهي احکامو اړخ زیات څیړي، او ځینې نور یې نور اړخونه څیړي، لکه: تاریخي، عقلي او سلوکي او داسې نور اړخونه، نو لدي کبله علماء تفسیرونه دوه ډولو ته ویشي:

لومړي: تفسیر بالمأثور: او دا هغه تفسیر دې چه د آیت کریمه تفسیر په هغو روایاتو سره کوي چه له رسول الله ﷺ یا دصحابه کرامو رضي الله عنهم او یا د تابعینو رحمهم الله څخه نقل وي.

دوهم: تفسیر بالرأي والاجتهاد: او دا هغه تفسیر دې چه په قرآنکریم کښې له فکر، تدبر او اجتهاد په وسیله وي، او په صحیح علمي اصولو باندي ولاړ وي.

۲/ د تفسیر ښه طریقه او د هغی قواعد او ضوابط:

د تفسیر په تیرو یادو شوو ډولونو کښې تفسیر بالمأثور لمړیتوب لري؛ ځکه دا هغه تفسیر دې چه له رسول الله ﷺ یا صحابه کرامو رضي الله عنهم او یاهم له تابعینو رحمهم الله څخه رانقل شوې وي، او همدوي د الله جل جلاله په مراد له بل هر چا ښه پوهیږي، او کله چه د قرآنکریم د آیاتونو تفسیر لازیات وضاحت او بیان ته حاجتمند شي، او په تفسیر بالمأثور کښې دغه مقصد نه وي اداء شوې، نو یو مفسر باندی لازم دي چه لاندیني قواعد او ضوابط په نظر کښې ونیسي:

۱/ د آیاتونو د تفسیر په وخت کښې د هغه څه مراعات کول چه په تفسیر بالمأثور کښې ثابت وي، نو داسی تفسیر دی نکوي چه د تفسیر بالمأثور سره ټکر ولري.

۲/ تفسیر باید د شریعت له هغه عامو أصولو او قواعدو سره موافق وي چه د قرآنکریم په نورو آیاتونو کښې راغلي وي، او یا هم د پیغمبر ﷺ په صحیحو سنتو کښې بیان شوي وي، نو یو مفسر باید پخپل تفسیر کښې داسې څه راوړلو څخه ځان وساتي چه له دغه عامو أصولو او قواعدو سره ټکر ولري؛ ځکه د قرآنکریم ځینې آیاتونه د ځینې نورو تفسیر او توضیح کوي، خو دغه آیاتو پخپل منځ کښې سره ټکر او تعارض نلري، او همدارنګه نبوي سنت هم د هغه څه توضیح او بیان کوي چه په قرآنکریم کښې په اجمال سره ذکر شوي وي، نه دا چه دهغی معارضه کوي.

۳/ مفسر بايد د لغت عربي قواعدو باندي پوره علم ولري، لکه دالفاظو دلالتونه، د جملو ترکيب، د يو لفظ يا دجملی استعمال او په هر ځاي کښی د هغی مقصود او معنی؛ ځکه قرآنکريم په عربي ژبه نازل شوې دې، نو بايد د عربي ژبی د قواعدو په رڼا کښی تفسير او توضيح شي.

۴/ اړينه اوضروري ده چه دمتشابهاتو آياتونو تفسير دمحکمو آياتونو په رڼا کښی وشي؛ ځکه د قرآنکريم ځينی آياتونه د ځينو نورو تفسير او توضيح کوي، او د قرآنکريم أکثر آياتونه محکم او د معانيو په لحاظ واضحه او څرګند دي، خو ځينی آياتونه يي متشابه دي، چه معاني يا دلالت يي ښه واضح نه وي، کله کله په ځينو لوستونکو باندي د هغی تفسير ګرانيږي، نو کله چه د دغه متشابه آياتونو تفسير په نورو محکمو آياتونو سره وشي، نو معنا يي ښه واضحه کيږي، الله سبحانه وتعالی فرمايي: ﴿هُوَ الَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٞ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ رَبِّنَاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ﴾ آل عمران: ۷.

ترجمه: الله جل جلاله هغه ذات دې چه نازل کړې يي دې پر تاباندی کتاب(قرآن)، چه ځينی له دغه قرآنکريم څخه محکم آياتونه دي، چه معاني يی ښکاره دي، دا محکم آياتونه د کتاب (قرآن) اصل دې، او ځينی نور آياتونه يي متشابهات دي، چه معاني يي ښه واضحه او ښکاره نه دي، نو هغه کسان چه دهغوي په زړونو کښی کوږوالي وي، نو هغوي ورپسی کيږي په هغو آياتونو پسی چه هغه متشابهات وي، او معاني يي ښه واضح نه وي له دي قرآنکريم څخه؛ لپاره د فتنی لټولو، او دهغی د حقيقي معنی پيژندلو په خاطر، او دهغه متشابه آيت تأويل او تفسير د خپل خواهش موافق وګرزوي، حال دا چه په حقيقی معنی ددی متشابهاتو باندی بل څوک نه پوهيږي پرته له الله تعالی او راسخينو علماو څخه، هغوئ وايي: مونږ ايمان راړې دې په دی قرآنکريم چه هغه محکم وي او که متشابه؛ ځکه ټول زمونږ د رب له لوری رانازل شوي دي، او پند نه اخلي مګر خاوندان د خالصو عقلونو.

۵/ علمي ثابت حقائقو باندی د کوني آياتونو د تفسير په مهال استئناس کولې شي، خو مفسر بايد ددغه شان علمي نظرياتو د قرآنکريم په تفسير کښی له ننباسلو څخه اجتناب وکړي او له دغه کار څخه ځان وساتي، تر څو د قرآنکريم په تفسير کښی هغه څه ونه ويل شي چه قرآنکريم هغی ته هيڅ تعرض نه وي کړې.

۶/ مفسر ته اړينه او ورباندی لازمي ده چه ډير احتياط وکړي او ځان له هغو فاسدو تأويلاتو څخه وساتي چه د الله جل جلاله د کلام معاني له هغو شرعي معانيو څخه لری باسي چه زمونږ پاک شريعت راوړي دي، او يا يي د عربي ژبی له قواعدو څخه وباسي، او په دي کښی دده نيت ته اعتبار نشته، چه دده نيت ددغه آيتونو تحريف او له خپلی صحيح معنی څخه بلی معنا ته اړول وي، او که دغه نيت يی نه وي، خو سبب يي د عربي قواعدو او دلالتونو او د استعمال په وجوهو باندی د ناپوهی له کبله وي، او يا هم د هغه فاسدو معانيو له کبله وي چه مفسر يي توهم کوي، او په حقيقت کښی د الله کلام له هغی څخه منزه او پاک وي.

اتم: دقرآنکريم اعجاز:

اعجاز په اصطلاح کښی هغه صفت دې چه د يو کار کولو يا رأي يا تدبير کښی له انساني قدرت او توان څخه پورته وي.

او معجزه يوه حادثه اصطلاح ده چې په متاخرينو کښې يې اطلاق د پيغمبرانو د نبوت او رسالت په نښو، آيتونو، او براهينو باندې کيږي، په قرآنکريم کښې دا لفظ ددې معنی لپاره نه دې استعمال شوې، بلکه ددې معنی لپاره نور ألفاظ استعمال شوي دي، لکه «آية»، «برهان» او داسې نور.

او قرآنکريم د الله جل جلاله کلام دې، په معانيو کښې يې داسې کمال، او په آيتونو، کلماتو او الفاظو کښې يې داسې کمال جمال او ښايست دې چه مخلوقات له دغسې آيتونو له راوړلو څخه عاجز دي، الله سبحانه وتعالى فرمايي: ﴿الٓرۚ كِتَٰبٌ أُحۡكِمَتۡ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتۡ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ خَبِيرٍ﴾ هود: ١.

ترجمه: قرآنکريم يو داسې کتاب دې چه محکم کړې شوي دي آياتونه يې، بيا په تفصيل سره بيان شوي دي دغه آياتونه، (او راليږل شوې دې دا قرآنکريم) له طرفه دهغه الله تعالى چه ډير د حکمت خاوند دې، او ډير ښه خبردار دې.

مشرکانو ډير کوښښونه کړي دي چه د قرآنکريم د مصدر په هکله خلکو ته شکونه پيدا کړي، او په دې لاره کښې يې ډير دروغ جوړ کړي دي، او شبهات يې راپارولي او خورى کړي دي.

نو ددوئ په مقابل کښې الله سبحانه وتعالى داسې آياتونه نازل کړل چه دغه مخالفينو ته چيلنج ورکوي چه که دوي کولې شي نو ددې قرآنکريم په څير دي يو کتاب جوړ کړي، يا دي ددې په شان لس سورتونه راوړي، که دا هم نشي کولې نو يو سورت دي راوړي، که چيرى دوي پخپلو دعواو کښې رښتينى وي، خو دوئ ددې ټولو څخه عاجز او کمزورې شول، او پدې قانع شول چه قرآنکريم که څه هم په عربي ژبه دې، خو د هغه څير کتاب جوړول ممکن کار نه دې، الله تعالى فرمايي: ﴿أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَىٰهُۖ قُلۡ فَأۡتُواْ بِسُورَةٖ مِّثۡلِهِۦ وَٱدۡعُواْ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ﴾ يونس: ٣٨.

ترجمه: آيا وايى دوي چه(محمد) له ځانه جوړ کړې دې دغه(قرآن)، ووايه (اى محمده دوي ته): چه نو راوړى يو سورت په شان دده (په اعجاز کښى)، او راوبولى تاسى هغه څوک چه ستاسې له لاسه کيږي (دى معارضى ته لپاره د معاونت خپل) غير له الله تعالى څخه که يې تاسى صادقان (رښتينى په دغه دعوا د افتراء کښى).

بيا قرآنکريم يو پاکيزه اعلان وکړ او دا خبره يې ورسره زمزمه کړه چه بشر خو لا څه چه پيريان هم د قرآنکريم په شان د کوم کتاب د راوړلو او جوړولو څخه عاجز او ناتوانه دي، بلکه که دا انسانان او پيريان سره راټول شي او يو له بله سره مرسته هم وکړي، نو دا کار نشي کولې، الله سبحانه وتعالى فرمايي: ﴿قُل لَّئِنِ ٱجۡتَمَعَتِ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأۡتُواْ بِمِثۡلِ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لَا يَأۡتُونَ بِمِثۡلِهِۦ وَلَوۡ كَانَ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٖ ظَهِيرٗا﴾ بنى اسرآئيل: ٨٨.

ترجمه: اي پيغمبره ! ته خلکو ته ووايه: کچيرى انسانان او پيريان په دي خبره سره راټول شي چه ددې قرآنکريم په څير يو کتاب راوړي او جوړ يې کړي، نو هيڅکله يې نشي جوړولې، اګر که ددوي ځينى له ځينى نورو سره کومکيان او ملاتړي هم شي.

او قرآنکريم ځکه معجز دې چه د الله تعالى کلام دې، او د مخلوق کلام له هغه سره هيڅ مشابهت او يو رنګوالې نلري، بلکه دا قرآنکريم د لغت، کلماتو ، آياتونو په اعتبار او د هغه بلاغي او بياني صورتونو، او په دي کښې د پخوانيو او روستنيو اخبارو او رښتينو قصصو او حکاياتو، او احکامو او

تشریعاتو، او د نفسي او وجداني تأثیر، او علمي حقایقو په اعتبار د رسول الله ﷺ په رسالت او ددي قرآن په صداقت یوه معجزه او ننبه ده.

او قرآنکریم څومره د طبیعي علومو علماء، د فلکیاتو، ژویو او طب او داسی نورو علماء او متخصصین په دهشت او حیرانتیا کښی اچولي دي؛ ځکه قرآنکریم د علمي حقایقو او هغه کوني اشاراتو څخه چه دغه علماء پکښی مشغول وي په داسی دقیق علمی عباراتو بحث او خبری کوي چه د چا په خیال کښي نه رائي چه له داسی امي شخصیت څخه دي صادر شي پخپله هم په یوه امّي امت کښي لوي شوې وي، او په یو داسی عالم کښی پاتی شوې وي چه له دغه معلوماتو څخه هیڅ درک ورته نه وي.

همدا سبب وو چه یو شمیر خلکو چه پکښی سوچ او فکر وکړ نو مسلمانان شول؛ ځکه هغوي پدي پوهه شول چه هغه څه چه قرآنکریم کښي راغلي دي ممکن نه ده چه هغه دي د بشر کلام وي، بلکه هغه د بشر د خالق، او ددي ټول کون د خالق او پیدا کوونکي کلام دې.

په قرآنکریم کښي څومره ډیر دلایل دي چه هغه په دي خبره دلالت کوي چه الله تعالی په ربوبیت، الوهیت او اسماو صفاتو کښی یو لا شریک له دي، چه څومره نا آشنا او غیر مسبوق کون یي پیدا کړې دې، الله تعالی فرمایي: ﴿سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ﴾ حٰمٓ السجدة: ۵۳.

ترجمه: زر دې چه وبه ښایو دوئ ته خپل دلایل د اسمانونو او ځمکی په اطرافو او څنډو کښی، او ددوي په ځانونو کښي به یي هم ورته وښایو، تردی چه دوي ته ښه واضحه او څرګنده شي چه دا قرآنکریم حق او رښتینې دې، آیا ستا رب او پالونکې (الله تعالی) کافی او بس نه دې چه هغه په هر څه باندی ګواه او شاهد دې؟.

نهم: د قرآنکریم د معانیو ترجمه او ژباړه:

ترجمه دی ته وایي چه یو کلام او خبره د یوی ژبی څخه بلی ژبی ته وژباړل شي، او هیڅ ترجمه له مشکلاتو څخه خالي نه وي؛ ځکه د یو کلام لغوي صیاغت او جوړښت د یو نص له مکوناتو څخه مهم عنصر دې، او کله کله بیا د یو نص په ژباړه کښی همغه لغوي صیاغت ساتنه ګرانه وي، اګر که دغه ترجمه د هغو نصوصو هم وي چه انسانانو یي صیاغت او تألیف کړې وي.

نو که دغه ژباړه د قرآنکریم د نصوصو وي نو دا ګرانوالې نور هم زیاتیږي؛ ځکه قرآنکریم د الله سبحانه وتعالی کلام دې، او هم له هغه څخه په عربي ژبه نازل شوې دې، چه لفظ او معنا دواړه یي د الله تعالی لخوا د وحیی په واسطه راغلي دي، او د یو انسان له وسه پوره نه ده چه دا دعوا وکړي چه هغه د قرآنکریم په ټولو پوره معانیو باندی احاطه کړی ده، او یا دا چه ژباړن کولې شي چه د قرآنی نص او الفاظو دوباره صیاغت او جوړونه په هغه طریقه کولې شي په کومه طریقه چه هغه الله تعالی په عربي ژبه رالیږلې دې.

نو سره له دی چه د قرآنکریم ترجمه او ژباړنه یو ډیر ګران کار دی، خو سره له دی هم د مسلمانانو علماء په دی خبره ډیر تاکید کوي چه د نړۍ ټولو خلکو ته - چه هغوي په هره ژبه خبری کوي- د قرآنکریم او په هغی کښی د راغلو پیغامونو رسَول هم یو ډیر ضروري کار دې، او دا کار پرته له دي چه دقرآنکریم ترجمه وشي، او وژباړل شي په بله طریقه سر ته نه رسیږي.

او نورو ژبو ته د قرانکریم ژباړه په څو ډوله ده:

۱/ دا چه د قرآنکریم د معانیو ترجمه او ژباړه وشي پرته له کوم تفسیر څخه، یعنی یوائی د قرآنکریم دالفاظو معاني بلی ژبی ته وژباړل شي.

۲/ دا چه د تر جمی او ژباړی برسیره څه توضیح او تفسیر هم ورسره ذکر شي، نو دا به داسی وي لکه چه له عربی ژبی پرته پر بله ژبه د قرآنکریم تفسیرونو څخه یو تفسیر وي.

خو د قرآنکریم د معانیو ترجمه او ژباړه که هر څومره دقیقه وي، او هر څومره که مترجم او ژباړن په دواړو ژبو ښه مهارت ولري، او د قرآنکریم د آیاتونو په معانیو باندی ښه احاطه هم ولري، خو سره له دي ټولو دغه ترجمی او ژباړی ته قرآن نه ویل کیږي، ددی خبری لاملونه دوه دي:

لومړي دا چه قرآنکریم د الله تعالی کلام دې او د الله تعالی لخوا په عربي ژبه نازل شوې دې، او هغه د بیان، ضبط او قوت په اعلی درجه کښی دې، نو ددی د آیاتونو په بله ژبه صیاغت او تألیف ددي لپاره کافي ده چه دغه ترجمی ته قرآن ویل او په قرآن نومول یو باطل کار دې.

دوهم دا چه ترجمه او ژباړه د مترجم او ژباړن لـه هغه فهم او پوهـی څخه تعبیر دې چه دې یي د قرآنکریم له معانیو څخه فهموي، نو لکه څرنګه چه په عربي ژبه یو تفسیر ته قرآن نه ویل کیږي، نو همدارنګه دقرآنکریم د معانیو ترجمی او ژباړی ته هم قرآن ویل ممکن نه دي.

خو ددی لپاره چه د قرآنکریم د معانیو یوه ترجمه او ژباړه مقبوله او د علماو په نزد منل شوی ترجمه او ژباړه وي باید هغه ضوابط او قواعد چه علماو د قرآنکریم د معانیو د بیان لپاره ایښي دي په دغه ترجمه او ژباړه کښی مو جود وي.

او په عین وخت کښی مترجم او ژباړن له دي څخه ځان وساتي چه د قرآنکریم د ترجمی په وسیله خلکو کښی غلطی او محرّفی معناګانی خپری کړي، او یا ترجمه په هغه څه باندی مشتمله وي چه دمسلمانانو شعایرو او مقدساتو ته پکښی سپکاوې او بد وضعیتي وي، او دا داسی څه دي چه په یو شمیر هغو ترجمو کښی شته کومی چه دمستشرقینو او یا اسلام ته په درواغو منسوبو خلکو لخوا لیکل شوی دي، دوي په اصل کښي فاسدی عقیدی لري، چه له دی کبله کوشش کوي ددی عظیم اسلام نښی او شعارونه ونړوي، او د مقدس دین اسلام صحیح عقیدی او غوره شریعت کښی طعن ته لار پیدا کړي.

له همدی کبله د قرآنکریم د چاپولو لپاره دملك فهد مرکز د قرآنکریم د موثقو او صحیحو ترجمو او ژباړو چاپ او خپرونه په غاړه واخسته، ترڅو وکولاي شي د قرآنکریم لوړ او اعلی پیغام هغه خلکو ته – چه په عربي ژبه نه پوهیږي،– په ښه شان د هغوي په خپلو ژبو ورسول شي.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله على نبينا محمد وعلى آله وصحابته أجمعين، والتابعين ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.



سُورَةُ الفَاتِحَةِ

اول جزء اول منزل

«د«الفاتحة» سورت مکي دی، (۷) آيتونه لري»

«د«المدثر «سورت نه وروسته نازل شوی دی، په تلاوت کې (۱) او په نزول کې (۵) سورت دی، او (۱) رکوع لري»

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ①

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان او ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: «رحمن» او «رحيم» دواړه دمبالغې صيغې دي، مګر په «رحمن» کې له «رحيم» څخه مبالغه زياته ده، په دغه ترجمه کې ددغو ټولو نکتو لحاظ شوی دی.

الْحَمْدُ لِلَّهِ

ټولې ستاينې (دکمال صفتونه) خاص الله لره دي.

تفسير: تر ټولو ښې او غوره ستاينې (صفتونه) چې له پيله تر آخره پورې شوي دي، يا کيدونکي دي هغه واړه خاص الله تعالى لره ښايي، ځکه چې الله تعالى د هر نعمت او هر څيز پيدا کوونکی او بخښونکی دی، او ښنه يې عامه ده که بې واسطې وي او که په واسطې سره وي.

تنبيه: دفاتحې په سورت کې الله تعالى د (۷) څيزونو يادونه کړې ده:

(۱) دنعمت يادونه لکه چې فرمايي:

رَبِّ الْعَالَمِينَ ②

چې پالونکی دټولو مخلوقاتو دی.

تفسير: دمخلوقاتو جمعې ته (عالم) ويل کيږي، نو لدې کبله دجمعې په شکل نه راوړل کيږي، مګر په دې آيت کې دعالم دهر جنس دښودلو لپاره دجمعې په شکل راغلی دی، لکه دملائکو عالم، دانسانانو عالم، دپيريانو عالم، او نور تر څو چې دا خبره ښه روښانه شي، چې دعالم ټول افراد دالله تعالى مخلوق دی.

(۲) دښو ښو څيزونو د ورکولو او بخښلو تمه او هيله (اميد) لکه چې فرمايي:

الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ③

ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی

تفسير: يعنې ټولې ستاينې (صفتونه) خاص الله تعالى لره دي، چې دټولو مخلوقاتو پالونکی او روزونکی (تربيت کوونکی) دی، او ډېر زيات مهربان دی چې هر ساکښ (ذي روح) ته د روغ، بدن او رزق ورکوونکی دی، او پوره رحم کوونکی دی چې يوائې مؤمنانو ته داجر او ثواب، دجنت دنعمتونو او خپلې رضا او ديدار بخښونکی دی.

(۳) درب العزت «جل شأنه وأعظم برهانه» په عظمت او قدرت کې فکر کول لکه چې فرمايي:

مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۝

څښتن (مالک) (دټولو امورو) دورځې دسزا دی.

تفسير: دسزا د ورځې (قيامت) دتخصيص لومړی وجه داده: چې په هغه ورځ به داسې لويې او ويروونکې پېښې (حادثې) واقع شي چې دهغو په شان به نه پخوا تېرې شوې وي، او نه به وروسته راشي، بله وجه يې داده: چې په هغه ورځ به د الله تعالى دپاک ذات له حقيقي حکومت څخه پرته دبل هيچا کوم ظاهري او مجازي واک (اختيار) او حکومت هم هيڅ نه وي ﴿لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ (۲ رکوع، دالمؤمن (غافر) سورت).

(۴) په عبادت کې اخلاص لرل لکه چې فرمايي:

اِيَّاكَ نَعْبُدُ

خاص تاته عبادت کوو.

تفسير: مونږ يواځې ستا عبادت کوو، او خاص له تا څخه مرسته (مدد) غواړو، ښکاره ده چې دغسې خطاب پر اختصاص ډېر ښه دلالت کوي.

(۵) دمرستې (مدد) غوښتنه لکه چې فرمايي:

وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۝

او خاص له تا څخه مرسته (مدد) غواړو.

تفسير: له دې آيت شريف څخه معلوميږي چې بې دالله تعالى له پاک ذات څخه بل چا څنې ما فوق الأسباب مرسته غوښتل بيخې روا نه دي.

(۶) دهغې سمې او روښانې لارې د ښودلو غوښتنه چې مقصود ته رسوونکې ده، لکه چې فرمايي:

اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۝

وښيه مونږ ته لاره سمه، لاره دهغو کسانو چې انعام کړی تا پر هغو باندې

تفسير: پر هغو کسانو چې انعام شوی دی څلور طايفې دي:

(۱) پيغمبران. (۲) صديقين. (۳) شهداء. (۴) صالحين. ددغو څلورو طايفو تصريح دپاک قرآن په بل ځای کې شوې ده، لکه د النساء سورت په ۶۹ آيت کې چې فرمايي: ﴿فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا﴾ ځينو علماوو ويلي دي: چې مطلب له ﴿الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ﴾ څخه «يهود» او له ﴿الضَّآلِّيْنَ﴾ څخه «نصارى» مراد دي، چې ددې مطلب دتاييدولو لپاره ډېر آيتونه او روايتونه شاهد دي، له ﴿الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾ يعنې له مستقيمې لارې څخه پاتې کسان دوه ډوله دي: يو ډول هغه کسان چه په ناپوهۍ سره له سمې لارې څخه محروم او بېرته پاتې وي، بل هغه کسان دي چې دوی سره له پوهې قصدا سرکشي غوره کړيده، پخواني او وروستني ګمراهان له دغو دوه وو طايفو څخه وتلى نشي، «نصارى» په لومړی او «يهود» په دويمه طايفه کې داخل دي.

(۷) له خرابو او ناوړو (غلطو) کارونو څخه دځان ساتلو غوښتنه او دپاکی او عصمت اميد لکه چې فرمايي:

غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ۝

نه «لاره دهغو بدو کسانو چې» غضب کړی شوی پر هغو باندې او نه «لاره دهغو بدو کسانو چې» ګمراهان دي.

تفسير: (يعنې مونږ ته دهغو کسانو سمه او صافه لاره وښيه چې په هغو باندې انعام شوی دی، او له هغو کسانو له کړو وړو لارو مو چې پرې غضب شوی او ګمراهان دي چپ (بچ) کړه، او له بدانو له متابعت څخه مو وساته).

الله تعالی دغه سورت دخپلو بندګانو له ژبو څخه فرمایلی دی، يعنې کله چې تاسو زمونږ دربار ته حاضريږئ نو له مونږ څخه دا رنګه سوال وکړئ، نو ځکه ددې سورت يو نوم «تعليم المسئله يعنې دغوښتلو ښودنه» هم دی.

ددې سورت په لومړۍ برخه کې دالله تعالی ثنا او صفت دی، دويمه برخه يې دبندګانو ددعا لپاره ده.

سُورَةُ البَقَرَةِ

«د «البقرة» سورت مدني دی، پرته له (۲۸۱)م آیت څخه چې د «حجة الوداع» په کال په منی کې نازل شوی دی».

«دوه سوه شپږ اتیا (۲۸۶) آیتونه او څلویښت (۴۰) رکوع لري».

«د » المطففين «له سورت څخه وروسته نازل شوی دی، په تلاوت کې (۲) او په نزول کې (۸۷) سورت دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان او پوره رحم کوونکی دی.

الٓمٓ

تفسیر: دغو حروفو ته «مقطعات» وایي، ددغو حروفو په اصلي معنا باندې پرته له الله تعالی څخه بل هیڅوک نه شي پوهیدی، او څوک وائي چه دغه حروف د الله تعالی او دده درسول صلی الله علیه وسلم تر منځ مخصوص رموز دي، چې مونږ ته دځینو مصالحو او حکمتونو لامله نه دي راښکاره شوي.

ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ ۛ فِيهِ ۛ

دا کتاب نشته هیڅ شک په ده کې (چې د الله تعالی له لوري نازل شوی دی).

تفسیر: یعنې په دې خبره کې هیڅ شک او شبهه نشته چې قرآن د الله تعالی کلام دی، او ټول مضامین یې رښتیني او واقعي دي.

هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ۝

(دغه کتاب) لارښوونکی دی لپاره د پرهیزګارانو.

تفسیر: له دغه ځایه دعظیم الشان قرآن تر آخره پورې د ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾ ځواب دی، چې دبندګانو له خوا غوښتل شوی وو.

یعنې دغه کتاب هغو بندګانو ته لار ښیي، چې له الله تعالی څخه وېره لري، ځکه هغه څوک چې د الله تعالی څخه ویریږي هغه خامخا د ښو او بدو امورو «طاعت او معصیت» غوښتنه او پلټنه (لټون) کوي، او د چا په زړه کې چې د الله تعالی وېره نه وي، نو هغه به له طاعت سره څه علاقه او له معصیت ځنې به څه اندیښنه ولري؟.

الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ۝

هغه کسان چې ایمان (باور) لرونکي دي په غیب باندې او قائموي دوی (سم اداء کوي سره د ټولو حقوقو) لمونځ او ځینې له هغو شیانو چې ورکړي مونږ دوی ته صرفوي یې (د الله تعالی د رضا لپاره).

تفسیر: یعنې هغه شیان چې دهغوی له عقولو او حواسو څخه پټ دي لکه وحدانیت، رسالت، حشر، نشر، قیامت، حساب، کتاب، ملائک، جنت، دوزخ، او نور دغه واړه د الله تعالی او دهغه درسول صلی الله علیه وسلم له ارشاد سره

سم حق او يقيني ګڼي، له دې څخه دا راښکاره شوه چې ددغو غايبو او پټو شيانو منکران د هدايت له فيضه محروم او بې برخې دي.

دلمانځه له اقامت څخه مطلب دادی چې هغه تل دخپلو ټولو حقوقو او آدابو په مراعات کولو سره په ټاکلو (مقررو) وختونو کې اداء کړی شي.

دټولو عباداتو اصل درې شيان دي:

(١) هغه امور چې دزړه سره تعلق او اړه لري.

(٢) هغه امور چې په بدن پورې متعلق او ترلي وي.

(٣) هغه امور چې په مال پورې مربوط وي.

په دې مبارک آيت کې دا درې واړه اصول په ترتيب سره ياد شوي دي.

وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ ۚ وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ۝٤

او هغه کسان چې ايمان لري (دوی) په هغه (کتاب) چې نازل کړی شوی دی تاته او (په) هغو (کتابونو) چې نازل کړی شوي دي لـه مخه د تـا او په آخرت دوی يقين کوي (چې ضرور راتلونکی دی).

تفسير: په تير آيت کښی دهغو کسانو يادونه وه چه له شرک نه وتلی او مسلمانان شوي دي، لکه دمکی خلک، او په دغه آيت کښی هغه کسان ياد شوي دي چه أهل کتاب ؤ او په اسلام مشرف شوی دی لکه يهود او نصاری.

أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ۝٥

دغه (ستايل شوي) کسان (دي) په هدايت له (جانبه) درب خپل او دغه (ستايل شوي) کسان دي هم دوی په مراد رسېدلي، (يا) او دغه (ستايل شوي) کسان هم دوی په مراد رسېدلي دي.

تفسير: يعنې دايماندارانو دغو دواړو ډلو ته چې پاس يادې شوي؛ په دنيا کې دوی ته هدايت ور په برخه شو، او په آخرت کې خپلو مرادونو ته رسيږي، له دې څخه معلوم شو؛ چې هر هغه څوک چې دايمان له نعمت او له ښو اعمالو څخه محروم او بې برخې دی؛ د هغه دنيا او آخرت دواړه بربادېږي اوس دمؤمنانو د دغو دوه ډلو له يادونې څخه وروسته د کافرانو دحالاتو يادونه کيږي.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ۝٦

بېشکه هغه (خاص) کسان چې کافران شوي دي؛ برابر دي په دوی وېرول ستا دوی لره او نه وېرول ستا دوی لره؛ دوی ايمان نه راوړي، (يا دا خبره) که ووېروې ته هغوی يا که ته نه وېروې هغوی؛ ايمان نه راوړي.

تفسير: له دې کفارو څخه خاص هغه خلق مراد دي، چې هغوی ته کفر مقرر شوی دی، او دايمان له دولت څخه تل بې برخې دي (لکه أبو جهل، أبو لهب، او نور) که نه، نو ښکاره ده چې ډېر کسان له هغو خلقو ځنې چې کافران وو په اسلام مشرف شوي دي، او وروسته له دې نه هم مسلمانيږي.

خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰى سَمْعِهِمْ ؕ وَعَلٰٓى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ۖ وَّلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۧ ٧

مهر لګولی دی الله پر زړونو د دوی او پر غوږونو د دوی، او پر سترګو د دوی (یوه ځانته) پرده ده، او دی دوی لره عذاب ډېر لوی.

تفسیر: دهغوی پر زړنو مهر لګول شوی دی (یعنې دحق پر خبرو باندې نه پوهیږي) او پر غوږونو باندې یې مهر لګولی شوی دی (یعنې رښتیا خبرو ته په غور سره غوږونه نه ږدي) او پر سترګو باندې یې پرده ده (یعنې دحق لاره نه وینې) دکفارو بیان هم ختم شو، اوس په دغو وروستیو دریارلسو آیتونو کې دمنافقانو حالات راځي:

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ ۘ ٨

او ځینې له خلقو هغه څوک دي چې وایي ایمان راوړی دی مونږ په الله او په ورځ وروستۍ (چې قیامت او د جزا وخت دی)، حال دا چې نه دي دوی مؤمنان.

تفسیر: یعنې د زړه له کومې یې ایمان نه دی راوړی؛ چې هغه ته حقیقي ایمان ویلی شي، یوائې په ژبې سره دمسلمانانو دتېرایستلو لپاره دایمان اظهار کوي.

يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ وَمَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ۠ ٩

ټکي کوي دوی (په خپل ګمان) له الله سره او له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی حال دا چې نه کوي ټکي دوی مګر له ځانو خپلو سره، حال دا چې دوی شعور نه لري، (او نه پوهیږي چې ضرر یې هم دوی ته رسېږي).

تفسیر: یعنې ددوی دا تېر ایستل نه په الله تعالی باندې چلیږي چې عالم الغیب دی، او نه په مؤمنانو باندې څه اثر اچولی شي، ځکه هغوی دخپل رسول صلی الله علیه وسلم په ژبه او نورو دلائلو او قراینو په وسیله د دوی له فریبکارۍ او دغابازۍ څخه خبریږي، بلکه ددې فریب وبال او دهغې خرابي په حقیقت کې هم دوی ته ښېرته ورګرځي، خو سره له دې دوی دخپل غفلت، ګناه، او جهالت له امله په غور سره ورته نه ګوري، او دهغې په نقصان او زیان نه پوهیږي.

«او دغه منافقان دخپل ځان په ضرر او نقصان څکه نه پوهیږي چې»:

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ ۙ فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا ۚ

په زړونو ددوی کې مرض (دشک او نفاق) دی، نو زیات کړ دوی لره الله مرض.

تفسیر: دهغوی په زړونو کې دنفاق، او داسلام له دین څخه دنفرت او له مسلمانانو سره د کینې او عناد مرض لا له پخوا موجود وو، اوس دقرآنکریم د نزول، او داسلام دشوکت د ظهور، او دمسلمانانو دترقی، نصرت، او لوړتیا (اوچتوالی) له کبله د دوی هغه ناروغتیا لا سخته او درنه شوه.

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۢ بِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ١٠

او (مقرر) دی دوي ته عذاب ډېر دردناک په سبب ددې چې وو دوی چې دروغ به یې ویل (په اظهار د ایمان سره).

تفسیر: له دې دروغو ویلو څخه هماغه داسلام په اړه ددروغو دعوی چې ویل به یې ﴿اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ﴾ مراد ده، چې پاس تېره شوه، یعنې ﴿عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ په حقیقت کې د دوی دنفاق سزا ده، نه دمطلقو دروغ ویلو.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴿١١﴾

او کله چې وويلی شي دې منافقانو ته: فساد مه کوئ په ځمکه کې نو وايي دوی بېشکه هم دا خبره ده چې مونږ هم دغه اصلاح کوونکي يو.

تفسير: لنډه دا چې منافقانو به ډول ډول فسادونه خپرول (خورول):

(١) په نفساني خواهشونو کې غرق او دشرعي احکامو له منلو څخه نفرت کوونکي او سستي کوونکي وو.

(٢) له مسلمانانو او کافرانو (دواړو) سره به يې تګ راتګ درلود (لرلو) دخپل قدر او منزلت د لوړتيا (ترقی) لپاره به يې دمسلمانانو خبرې کافرانو او دکافرانو به يې مسلمانانو ته رسولې، او يو بل ته به يې چغلي او شيطاني کوله.

(٣) له کافرانو سره يې په ډير دار او مدار سره ګډون، ملاقات او معاملې کولې.

أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ ﴿١٢﴾

خبردار اوسئ ! بېشکه دوی دي هم دوی فساد کوونکي مګر نه لري دوی شعور (پخپل فساد).

تفسير: هغه چارې چه منافقان يې دمصلحت او صلح په بهانې او پلمې سره کوي، هغه ټولې په حقيقت کې فساد او نفاق دی، مګر دوی نه پرې پوهيږي او شعور نه لري.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ قَالُوا أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاءُ

او کله چې وويلی شي دوئ ته چې ايمان راوړئ لکه چې ايمان راوړی دی نورو خلقو؛ نو وايي دوی: آيا ايمان راوړو مونږ لکه چې ايمان راوړی دی ناپوهانو؟ !

تفسير: دا خبرې به يې په خپلو زړونو کې راګرځولې، يا به يې يو له بل سره کولې، يا به يې له هغو ضعيفو مسلمانانو سره يادولې، چې په کومه وجه له دوی سره په پټو خبرو کې شريک وو، دا کسان چې دمنافقانو په نظر «سفهاء» ورځي، په حقيقت کې داسې ريښتيني مسلمانان دي چې د الله تعالی په احکامو باندې خپل ځانونه جاروي، او دخلکو له مخالفت څخه هيڅ اندېښنې او پروا نه کوي، ددوئ پر عکس منافقانو به له مسلمانانو او کافرانو دواړو سره ددنيوي ګټو په خاطر ظاهر داری کوله، او دآخرت فکر ورسره نه وو نو ځکه يې اسلامی شريعت ته غاړه ايښودل ناپوهي ګڼله.

أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ وَلَٰكِن لَّا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾

خبردار اوسئ ! بېشکه دوی دي هم دوي ناپوهان، مګر نه پوهيږي دوی (په ناپوهی خپلې).

تفسير: په حقيقت کې همدا منافقان ناپوهان دي، چې ددنيوي بې ثباته او فنا کيدونکې اغراضو او ګټو (فائدو) له امله يې آخرت تر شا کړی، او ورځخه بې پروا شوي دي، د فاني شي غوره کول او د باقي شي پريښودل څومره حماقت دی؟ خو منافقان تر دې درجې پورې ناپوهان دي چې په دې ښکاره حقيقت هم نه پوهيږي.

وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا إِلَىٰ شَيَاطِينِهِمْ قَالُوا إِنَّا مَعَكُمْ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِئُونَ ﴿١٤﴾

او کله چې ملاقات وکړي (منافقان) له هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی دی، نو وايي دوی: ايمان مو راوړی دی، او کله چې يواځې شي له شيطانانو (مشرانو) خپلو سره نو وايي دوی: بېشکه مونږ له تاسو سره يو، بېشکه همدا خبره ده چې مونږ مسخرې کوونکي يو (په مؤمنانو پورې).

تفسير: له شياطينو (شريرانو) څخه يا هغه كفار مراد دي: چې ټولو خلقو ته به يې خپل كفر ښكاره كاوه، يا هغه منافقين مراد دي، چې دمنافقانو غټان او رئيسان ګڼل كېدل، يعنې منافقانو به خپلو مشرانو ته ويل چې: په كفر او نورو ديني معتقداتو كې مونږ بيخي له تاسو سره يو او له تاسو څخه هيڅكله نشو جلا (جدا) كېدى، او ځمونږ دغه ظاهري موافقت چې له مسلمانانو سره يې كوو، داسې ونه ګڼئ چې ګوندې مونږ په رښتيا له هغو سره موافق يو، مونږ خو پر دوى ملنډې (پسخند) وهو، او مسخرې پرې كوو.

اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿١٥﴾

الله ټوقې او مسخرې كوي په دوى پورې، او مهلت وركوي دوى ته په سركشى د دوي كې، حال دا چې دوى حيران دي (په خپل كار كې).

تفسير: څرنګه چې الله تعالى مؤمنانو ته فرمايلي دي چې له منافقانو سره هم دمسلمانانو په شان معامله وكړئ، او دهغوى دمال او ځان سره څه غرض ونكړئ، نو ځكه منافقانو دخپلې ناپوهۍ له امله داسې ګمان وكړ، چې دايمان له راوړلو څخه هغه فائدې چې مسلمانانو ته وررسيږي همغه ګردې مونږ ته هم د خولې په تشو خبرو رارسيږي، او داسلام په ظاهري اظهار سره بيخي ډاډه او هوسا (مطمئن) شوي يو، حال دا چې دا كار په پاى (آخر) كې منافقين په يوې سختې بلا اخته كوي، او دهغوى انجام ور خرابوي، نو اوس انصاف وكړئ، چې په حقيقت كې دا تمسخر پر مسلمانانو دى كه په منافقانو؟.

تنبيه: په دې آيت كې ﴿فِيْ طُغْيَانِهِمْ﴾ د ﴿وَيَمُدُّهُمْ﴾ له فعل سره متعلق دى، مګر په ځينو نورو ډيلوي ترجمو كې له ﴿يَعْمَهُوْنَ﴾ سره تړل شوى دى، چې له هغه څخه معنى خرابه او دمعتزله وو له مسلك سره موافقه او دسنيانو له اصولو او دعربو له استعماله بيخي مخالفه او غلطه ده، چې پوهان پرې ښه پوهيږي.

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ﴿١٦﴾

دا هغه كسان دي چې پېرودلې (اخيستلې، غوره كړې) يې ده ګمراهي په هدايت سره، نو هيڅ ګټه (فائده) ونه كړه سوداګري د دوى (بلكه زيان يې وكړ) او نه وو دوى لار موندونكي (حق ته).

تفسير: له تجارت څخه مراد هماغه د هدايت په ځاى د ګمراهۍ او ضلالت غوره كول دي، چې اوس يې ذكر وشو، يعنې منافقانو په ښكاره ډول ايمان ومانه، او په زړه كې يې كفر غوره كړ، چې دهغه له امله په آخرت كې خوار او په دنيا كې بې اعتباره شول.

مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَارًا ۖ فَلَمَّآ اَضَآءَتْ مَا حَوْلَهٗ ذَهَبَ اللّٰهُ بِنُوْرِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِيْ ظُلُمٰتٍ لَّا يُبْصِرُوْنَ ﴿١٧﴾

مثال د منافقانو (په نفاق كې) په شان د مثال د هغه چا دى، چې بل كړى وي اور (په تيو تورو تيارو كې) نو كله چې روښانه كړي دغه (اور) هغه ځايونه چې چاپېر د هغه دي، نو مړه كړي الله رڼا د دوى او پريږدي دوى په تيارو كې په دى حال كې چې هيڅ نه وينې.

تفسير: د منافقانو حال داسې دى، لكه چې څوك په يوه تپه (توره) تياره شپه كې د لارې د موندلو او له ضررناكو شيانو څخه د ځان په امن كولو له امله اور بل كړي، او په لوى بيابان كې يوه نرى لاره ځانته پيدا كړي، كله چې په رڼا كې لار

ورښکاره شي، نو الله تعالى هغه رڼا تري مړه کړي، او هغه په همغه توره تياره شپه او ډاډک ميدان کې وچ کلک ولاړ وي، او هيڅ څيز الله نه ورښکاروي، همداسې منافقانو هم د مسلمانانو له وړې د شهادت د کلمې له رڼا ځنې غوښته چې کار واخلي، خو سم د لاسه يې لږ څه فايده (لکه د ځان او مال ساتنه) تري واخيسته، چې ناڅاپه د شهادت د کلمې رڼا او نور منافع ګرد ورک شول، نو وروسته له مړ کېدلو څخه په دردناک عذاب اخته شول.

صُمٌّۢ بُكۡمٌ عُمۡيٞ فَهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ١٨

(دوی) کاڼه دي، ګونګيان دي، ړانده دي، نو بېرته نه راګرځي دوی (له ګمراهۍ نه)

تفسير: يعنې کاڼه دي چې رښتيا او حقه خبره نه شي اورېدی، ګونګيان دي دحق له اقراره او رښتيا ويلو، ړانده دي دحق له ليدلو، او دخپلې ګټې (فائدې) او تاوان له کتلو نه چې څوک کوړ هم وي، ګونګی هم وي، نو هغه به په څه ډول په لار راشي؟ هو ! که يواځې ړوند وای، نو يا به يې چاته غږ کاوه، يا به يې د کوم سړي خبره اورېده، نو له دوی ځنې هيڅ هيله او توقع نه کېږي، چې له ګمراهۍ او بې لارتوب ځنې مخ واړوي او په سمه لار شي.

أَوۡ كَصَيِّبٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فِيهِ ظُلُمَٰتٞ وَرَعۡدٞ وَبَرۡقٞ يَجۡعَلُونَ أَصَٰبِعَهُمۡ فِيٓ ءَاذَانِهِم مِّنَ ٱلصَّوَٰعِقِ حَذَرَ ٱلۡمَوۡتِۚ وَٱللَّهُ مُحِيطُۢ بِٱلۡكَٰفِرِينَ ١٩

يا (مثال د دوی) په شان د صاحبانو د زورور غټ ځاڅکي باران دی (چې اوري) له طرفه د آسمانه، چې وي په دې کې تياري، تندر، او برېښنا، نو ننه باسي دوی ګوتې خپلې په غوږونو خپلو کې له امله د سخت آواز د تندرونو له وړې د مرګه، او الله احاطه کوونکی دی په کافرانو (په علم او قدرت خپل).

تفسير: دويم مثال د دغو منافقانو په شان د هغو کسانو دی، چې پر دوی له آسمانه يعنې له بره -د پاسه- نه په ډېر شدت سره باران اوري، او څو ډوله تياري هم په هغه کې وي.

همداسې منافقان هم له يو لوري د خپلو دنيوي اغراضو او مصالحو له امله په يوه عجيبه پريشانۍ، وېره، او کشمکش کې اخته دي، او په خپلو چټې تدبيرونو سره دخپلو ځانونو ژغورل (ساتل) غواړي، مګر د الله تعالى قدرت له هر لوري کافران چار چاپېر نيولي او احاطه کړي يې دي، او دهغه له نيولو او له عذابه په هيڅ ډول نشي خلاصيدی.

يَكَادُ ٱلۡبَرۡقُ يَخۡطَفُ أَبۡصَٰرَهُمۡۖ كُلَّمَآ أَضَآءَ لَهُم مَّشَوۡاْ فِيهِ وَإِذَآ أَظۡلَمَ عَلَيۡهِمۡ قَامُواْۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَذَهَبَ بِسَمۡعِهِمۡ وَأَبۡصَٰرِهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٠

نژدې ده چې برېښنا وتښتوي (نور) د سترګو د دوی، کله چې رڼا کړي (برېښنا) دوی ته لاره؛ نو روان شي دوی پکې، او کله چې تياره کړي په دوی نو ودريږي، او که اراده کړې وای الله (د دوی د کوڼوالي او ړوندوالي) نو خامخا زائل کړي به يې وو (ظاهري قوت) د اورېدلو د دوی، او (ظاهري قوت) د ليدلو د دوی، بېشکه الله په هر څيز ښه قادر دی (چې ځينې يې کڼول او ړندول دي).

تفسير: حاصل يې دا چې منافقان په خپل ضلالت او ظلماتي خيالاتو کې مبتلا دي، خو کله چې د اسلام د نور غلبې او د قوتناکو معجزو ظهور ته ګوري، او شرعي تهديد او تاکيد اوري، نو لږ څه منتبه او په ښکاره ډول د «صراط مستقيم» په لوري متوجه کېږي، او هر کله چې څه دنيوي اذيت او مشقت په نظر ورشي، نو خپل کفر باندې ټينګېږي، لکه چې

د باران په شدت او تپه (توره) تياره کې د برېښنا له برېښيدلو سره په تللو باندې شروع کوي، او بيا بېرته وچ کلک دريږي، مګر څرنګه چې الله تعالى په هر شي باندې پوه او عليم دى، او هيڅ ځيز د هغه له قدرت څخه د باندې نه دى، نو دوى ته له داسې هيلو او تدبيرونو ځنې هيڅ يوه ګټه (فائده) نه ور رسيږي.

(فائده): ددې سورت له شروع څخه تر دې ځايه پورې يې ددريو ډلو ذکر وفرمايه، لمړى: دمؤمنانو، دويمه: د کافرانو چې دهغوى پر زړونو باندې داسې مهر لګول شوى دى چې هيڅکله به ايمان رانه وړي، دريمه: دمنافقانو، چې په ظاهر لکه مسلمانان ښکاري، مګر دهغوى زړونه په هيڅ يو لوري نه دي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعْبُدُوا۟ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٢١﴾ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ فِرَٰشًا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ فَلَا تَجْعَلُوا۟ لِلَّهِ أَندَادًا وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٢﴾

اى خلقو ! عبادت وکړئ درب خپل هغه (رب چې) پيدا کړي يې يئ تاسې، او (پيدا کړي يې دي) هغه کسان چې وو پخوا له تاسې څخه؛ لپاره ددې چې تاسې ځان وساتئ (له عذابه د الله)، هغه (رب) چې ګرځولې يې ده تاسو ته ځمکه فرش، او (ګرځولى يې دى) آسمان چت، او نازلې کړي يې دي له (طرفه) د آسمانه اوبه، پس راويې ايستې په دې (اوبو) سره له هر ډول ميوو څخه روزي تاسې ته، نو مه ګرځوئ له الله تعالى سره شريکان حال دا چې تاسې پوهيږئ (چې الله شريک نه لري).

وَإِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا۟ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِۦ

او که چېرې يئ تاسې په شک کې له هغه قرآنه چې توټه توټه نازل کړى دى مونږ په بنده خپل (محمد باندې) نو راوړئ تاسې يو سورت په شان دده !

تفسير: ديوه کلام په نسبت شبهه يا له دې جهته کېدای شي چې څه خلل او ريب په کې وي، نو دهغه دفعه يې په ﴿ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيهِ﴾ سره وفرمايله، يا يې دا صورت کيدای شي چې د چا په زړه کې دپوهې له لږوالي يا د عناد د زياتوالي له امله څه شک او شبهه پيدا کيږي، نو څرنګه چې دا صورت ممکن بلکه موجود وو، نو ددې د لرې کولو عمده او آسان صورت يې بيان وفرمايه، چې که تاسې ددې کلام په نسبت داسې خيال لرئ چې د بشر کلام دى؛ نو تاسې هم د دى قرآن د يوه سورت د درې آيتونو په اندازه همداسې فصيح او بليغ يو سورت جوړ او ورسره يې مقابل کړئ، کله چې تاسې سره لـه ډير فصاحت او بلاغت، د پاک قـرآن د يوه وړوکي سورت له مقابلې څخه عاجز يئ، نو باور وکړئ چې دا د الله تعالى کلام دى، او د هيڅ کوم بنده خبره نه ده، په دى آيت کې د محمد صلى الله عليه وسلم نبوت لا ښه څرګند او مدلل شو.

وَٱدْعُوا۟ شُهَدَآءَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٣﴾

او راوبولئ (اى مشرکانو !) مددګاران خپل بې له الله څخه که يئ تاسې رښتيا ويونکي (په دې دعوى کې چې دا د انسان کلام دى).

تفسير: يعنې که تاسې په دې دعوى کې رښتينې يئ چې دا د بنده خبره ده، نو هومره پوهان، عالمان، شاعران، فصحاء، او بلغاء چې موجود دي پرته له الله تعالى؛ له ټولو ځنې مدد او کومک وغواړئ، او معاونت ترې واخلئ ! او په دې سره يې ولمسوئ چې ټول سره کينې او يو لنډ سورت دقرآن دځو آيتونو په شان جوړ کړئ ! يا يې دا مطلب دى چې

له الله تعالى نه په غير ستاسې هومره معبودان چې دي؛ له ټولو ځنې په ډيره تضرع او زارۍ او په دعاګانو سره غوښتنه وکړئ ! چې په دې مشکل کې له تاسو سره مدد وکړي، او څه آسانتيا در ورسوي.

فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿٢٤﴾

پس که ونه کړی شو تاسو (دا کار) او له سره به يې ونه کړی شئ، پس وساتئ تاسو (ځانونه) له هغه اوره چې خس (خاشاک) د هغه بنيادمان او تيږې (ګټې) دي، چې تيار کړی شوی دی (دا اور) لپاره د کافرانو.

وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ كُلَّمَا رُزِقُوا مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقًا قَالُوا هَٰذَا الَّذِي رُزِقْنَا مِن قَبْلُ وَأُتُوا بِهِ مُتَشَابِهًا

او زېرى ورکړه (اى محمده) هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړى دى (په ټولو مؤمن به شيانو) او کړي يې دي ښه (عملونه) په دې چې بېشکه دوى ته جنتونه دي چې بهيږي لاندې (تر مانيو او ونو) دهغو ويالې، هر کله چې روزي ورکړه شي دغو (جنتيانو) ته له جنتو څخه څه ميوه لپاره دخوړلو؛ نو وايي دا (جنتيان): دا همغسې ميوه ده چې راکړای شوې وه مونږ ته پخوا له دې نه، او را به وړه شي دوى ته ميوه همرنګه (او په خوند کې سره ببله).

تفسير: دجنت ميوې به د دنيا له ميوو سره مشابه وي، چې په شکل او صورت کې به عينا بيخي همغسې ښکاري، مګر په خوند، مزه، رائحه، خوږوالي، لطافت، او نزاکت کې به ډېر زيات فرق سره لري، او د دې دواړو په مينځ کې به د ځمکې او آسمان توپير (فرق) وي.

وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٥﴾

او وي به دوى لپاره په دغو (جنتونو) کې ښځې ښې پاکې ستره، او دوى به وي په دغو (جنتونو) کې هميشه.

تفسير: د جنت ښځې به له ظاهري او باطني نجاساتو (او رذيله ؤ اخلاقو) ځنې ټولې پاکې، صافې وي.

فائده: تر دې ځايه پورې يې ددرې شيانو ذکر وفرمايه، چې په هغو پوهيدل ضروري وو:

اول: «مبدأ» يعنې چې مونږ له کومه راغلي يو؟ او تر دې پخوا څه شى وو؟

دويم: «معيشت» چې څه خورو، او چېرې اوسو؟

دريم: «معاد» چې ځمونږ پاى او انجام به څه کيږي؟

إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا

بېشکه الله حيا نکوي (نه شرميږي ددې خبرې نه) چې بيان کړي يو مثال (له مثالونو څخه) په مياشي سره يا چې پورته وي تر.

تفسير: کفارو وويل چې: «مونږ په بل دليل سره ددې خبرې دشهادت وړاندې کوو، چې دا د الله کلام نه بلکه د بنده وينا ده، او هغه دا دى، چې يو لوى عظيم الشان سړى تل پخپلو خبرو اترو کې د ذليلو او حقيرو شيانو له يادولو ځنې ځان ساتي، او له سره ژبه نه پرې خوځوي، نو حق تعالى چې له ټولو لويانو ځنې اعلى، اعظم، او اکبر دى، څرنګه په

خپل پاک کلام کې د میاشي، یا له هغه ځنې د کومې لویې خوځندې (حشرات الأرض) لکه مچ او غنې (جولاګی) مثال بیانوي، ځکه چې له (مثال) نه د (ممثل له) توضیح او تفصیل مطلوب دی، او په هغه کې د حقارت او عظمت څه خبره او مباحثه نه وي، او دا مطلوب به هلته حاصلیږي چې د (مثال) او د (ممثل له) په منځ کې پوره مطابقت وي، که (ممثل له) حقیر وي، نو ښایي چې د هغه (مثال) هم حقیر وي، که نه هغه (تمثیل) بېکاره ګڼل کیږي» د ﴿فَمَا فَوْقَهَا﴾ معنی داسې هم کیدی شي، چې له میاشي ځنې په حقارت او صغارت کې زیات وي، لکه چې په ځینو احادیثو کې ددنیا مثال دمیاشي د وزر سره کړی شوی دی.

فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۖ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَيَقُولُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا وَيَهْدِي بِهِ كَثِيرًا ۚ

پس هر هغه کسان چې مؤمنان دي، پس پوهیږي (په یقین سره) چې بېشکه دا مثال حق دی له ربه د دوی څخه، او هر هغه کسان چې کافران شوي دي نو وایي: (له ډېرې ناپوهۍ او عناد نه) چې د څه څیز اراده کړې ده الله په دې مثال سره (داسې کړی ده الله چې:) ګمراه کوي په دې مثال سره ډېر خلق، او سمه لار ښیي (دحق) په دې سره ډېرو خلقو ته.

تفسیر: یعنې مؤمنان داسې مثالونه حق او مفید ګڼي، او کافران د حقارت په ډول وایي چې: «له داسې حقیرو او سپکو مثالونو ځنې الله تعالی څه مطلب او اراده لري؟» ځواب ورکړی شوی دی چې: دغه کلام له سره تر پایه پورې هدایت دی، خو د ده نه اورېدلو ځخه ډېر خلق د ګمراهۍ په کنده کې لویږي، او ډېر خلق د هغه په مرسته د هدایت په سمه لاره درومي، یعنې دې ځخه دحق د طرفدارانو او د باطل د هوا خواهانو پوره تمیز بیلوالی او جلاوالی (جداوالې) مقصود دی، چې هغه خورا مفید او ضروري شی دی.

وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلَّا الْفَاسِقِينَ ﴿٢٦﴾ الَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِن بَعْدِ مِيثَاقِهِ ۚ وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٢٧﴾

او نه ګمراه کوي (الله) په دې مثال سره مګر فاسقان، هغه کسان چې ماتوي دوی عهد د الله وروسته د محکموالي د هغه عهد او پرې کوي هغه چې حکم کړی دی الله په هغه سره، چې پیوند دې کړی شي، او فساد کوي دوی په ځمکه کې، او دغه کسان هم دوی دي زیان کاران (په دنیا او عقبی کې).

تفسیر: د ﴿مَا أَمَرَ اللَّهُ﴾ قطع لکه قطع الرحم، له انبیاوو، علماوو، واعظانو، مؤمنانو، لمونځو، او نورو خیریه وو امورو نه مخ اړول چې د الله تعالی د رضا په خلاف دی، له فساد نه مراد دا دی چې: خلق به یې له ایمان ځنې زړه توري کول، او د هغه نفرت او کرکه به یې د هغوی په زړونو کې ور اچوله، او د اسلام مخالفان به یې په دې باندې تیزول چې له مسلمانانو سره مقاتله وکړي، او د مؤمنانو مقاتلې ته ملا وتړي، او د لویو اصحابو او د امت د صلحاوو عیوب ولټوي، یا یې پرې وتړي، او بیا یې مشهور کړي، چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او د محمدي دین بې احترامي د خلقو په زړونو کې کینې، او راز راز رسوم او بدعتونه به یې خپرول (خورول)، او داسلام په مخالفت کې به یې زور لګاوه.

مطلب دا دی چې د دې نا مناسبو حرکتونو له امله خپلو ځانونو ته زیان رسوي، چې له هغو ځنې نه د اسلام توهین او نه د امت د صلحاوو څه تحقیر کیدای شي.

كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَكُنْتُمْ أَمْوَاتًا فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٨﴾

څرنګه کافران کيږئ په الله باندې، حال دا چې وئ تاسې مړه، بيا (الله) ژوندي کړی تاسې (دروح په درکولو سره) بيا به (الله) مړه کړي تاسې، بيا به (الله) ژوندي کړي تاسې (په بعث سره) بيا به خاص هم ده ته وګرځول شئ (دخپلو اعمالو د جزا لپاره).

تفسير: يعنې په اوله کې تاسې بې ځانه اجسام وئ، چې حس او حرکت در کې نه وو، لومړی عناصر وئ، وروسته د مور او پلار خواړه او غذا شوئ، او بيا نطفه او رپسې کلکه وينه او بيا يوه توټه غوښه شوئ، له لومړنيو حالاتو څخه وروسته په تاسې کې روح (سا) پو کړی شو، چې د هغه له امله لومړی دمور په رحم کې او بيا په دنيا کې ژوند کوئ، کله چې په دنيا کې د مرګ وخت راشي، او مړه شئ بيا به په قيامت کې ژوندي کيږئ چې حساب ورکړئ او خپلې عملنامې واخلئ، يعنې له قبرونو څخه به ووځئ، او د الله تعالى په حضور کې به د حساب او کتاب لپاره ودرولی شئ، نو اوس تاسې خپله انصاف وکړئ، هر کله چې تاسې له اوله تر آخره پورې د الله تعالى د احساناتو او فائدو ګرو يئ، او په هر حالت او حاجت کې ورته محتاج يئ، او هم ده ته اميد او هيله لرئ، نو په سر د هغه کفر غوره کول او د پاک الله جل جلاله نافرمانۍ ته ملا ټرل څومره د تعجب، افسوس، او حيرانۍ خبره ده.

هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٩﴾

الله هغه ذات دی چې پيدا کړی يې دي تاسې ته هغه شيان چې په ځمکه کې دي ټول، بيا يې قصد و کړ آسمان ته (دپيدا کولو) نو برابر يې کړل دوی اووه آسمانونه، او دې په هر څه باندې ښه عالم دی.

تفسير: په دې آيت کې دبل نعمت بيان وفرمايه، يعنې الله تعالى تاسې پيدا کړي يئ او ستاسې د بقاء او ګټې لپاره يې په ځمکه کې هر ډول شيان خورا زيات پيدا کړل، لکه دخوړلو، څکلو، او آغوستلو شيان، هو، دهر شي لپاره يې جلا جلا سامانونه او وسيلې، او وروسته له هغه يې متعدد آسمانونه پيدا کړل، چې په هغو کې تاسې ته راز راز منافع او ګټې (نفعې) شته دي.

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ

او (ياد کړه ای محمده !) هغه وخت چې وويل پرودګار ستا پرښتو ته چې بېشکه زه پيدا کوونکی يم په ځمکه کې د يوه خليفه، نو وويل پرښتو: آيا پيدا کوې ته په ځمکه کې هغه څوک چې فساد به کوي په دې ځمکه کې او تويوي به (په ناحقه سره) وينې، حال دا چې مونږ تسبيح وايو سره د ثنا ستا او نسبت د پاکۍ کوو تاته.

تفسير: دا خبره چې پرښتو ته د بنيادمانو احوال څرګند شوي وو؟ په دې کې ډېر احتمالات شته، يا به يې په پيريانو باندې قياس کړی وي، يا به الله تعالى پوهولې وي، يا به پوهيدلې وي چې خليفه ته خو هلته ضرورت پيښيږي، چې ظلم، فساد، او تجاوز موجود وي.

قَالَ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٣٠﴾

وويل (الله): بېشكه زه پوهيږم په هغو اسرارو چې تاسې پرې نه پوهيږئ.

وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلۡأَسۡمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمۡ عَلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِي بِأَسۡمَآءِ هَٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٣١﴾
قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ لَا عِلۡمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمۡتَنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٣٢﴾

او وښودل (الله) آدم ته نومونه ټول (دپاسنيو او ځمکنيو شيانو) بيا يې وروړاندې کړل هغه ټول شيان پرښتو ته، نو ويې ويل: خبر راکړئ تاسې ما ته په نومونو ددې شيانو سره که يئ تاسې رښتيا ويونکې (پخپلې دغې وينا کې) وويل پرښتو: نسبت دپاکۍ کوو تاته (له ټولو عيبونو او اعتراضونو) نشته هيڅ علم مونږ لره مګر په هغه شي چې ښودلی دی تا مونږ ته، بېشکه ته هم دا ته ښه عالم او ښه د حکمت خاوند يې.

تفسير: لنډه يې دا چې حق تعالى آدم عليه السلام ته د هر شي نوم او د هغه حقيقت او خاصيت، ګټه (فائده) او تاوان وروښود، وروسته له دې چې ددې لپاره چې د هغه خاص حکمت او اساسي مصلحت پرښتو ته څرګند شي، ددغو پاسنيو ياد شوو شيانو پوښتنه يې له پرښتو څخه وفرمايله، مګر هغوی په ځواب کې پخپل عجز او قصور اعتراف وکړ، او ښې وپوهېدلې چې بې له دې عمومي معلوماتو څخه هيڅوک پر ځمکه خلافت نشي کولای.

قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ أَنۢبِئۡهُم بِأَسۡمَآئِهِمۡۖ فَلَمَّآ أَنۢبَأَهُم بِأَسۡمَآئِهِمۡ قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ غَيۡبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَأَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ وَمَا كُنتُمۡ تَكۡتُمُونَ ﴿٣٣﴾

وويل (الله) ای آدمه ! خبر کړه دوی په نومونو ددې شيانو، نو کله چې آدم خبر ورکړ دوی ته په نومونو دهغو شيانو، وويل (الله): آيا نه وو ويلي ما تاسو ته، چې بېشکه زه پوهيږم په پټو شيانو د آسمانونو او د ځمکې او پوهيږم پر هغو شيانو چې ښکاره کوئ يې تاسې (په ژبه) او په هغو شيانو چې يئ تاسې چې پټوئ يې (په زړونو کې).

تفسير: وروسته له دې د آدم عليه السلام څخه د عالم د ټولو شيانو په نسبت سوال وشو، نو هغه ژر تر ژره هغه ټول ملائکو ته وربيان او ټولې پرښتې يې داسې متعجبې او حيراني کړې، چې دده په علمي احاطه يې تحسين او آفرين وويل، نو دلته الله تعالى ملائکو ته وفرمايل: «آيا تاسو ته مو نه وو ويلي، چې بېشکه زه ښه پوهيږم په پټو شيانو د آسمانونو او دځمکې، او ښه خبر يم په هغه شيانو چې يې څرګندوئ، او پټ يې ساتئ په خپلو زړونو کې».

فائده: له دې څخه پر عبادت باندې دعلم فضيلت ثابت شو، وګورئ چې په عبادت کې پرښتې دې حد ته رسېدلې وې، چې معصومې دي، مګر څرنګه چې په علم کې د انسان څخه کمې دي، نو ځکه يې د خلافت مرتبه انسان ته داسې ورکړه چې پرښتې هم ورته تسليمې شوې.

وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰ وَٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٣٤﴾

او (ياد کړه ای محمده !) کله چې ووېل مونږ پرښتو ته چې: سجده وکړئ آدم ته (دتحيې) پس سجده وکړه دوی (ټولو) مګر (سجده ونکړه) ابليس، منع يې راوړه (له سجدې نه) او لويي يې وکړه او وو دی (لا له پخوا څخه په علم د الله کې) له کافرانو څخه).

تفسير: كله چې د آدم عليه السلام خلافت مسلم شو، نو پرښتو او پيريانو ته امر وشو چې د آدم عليه السلام په لوري د تحيې (تعظيم) سجده وکړئ او هغه د خپلې سجدې قبله وګرځوئ، ددې امر دمنلو له امله ټولې پرښتې په سجده ولوېدې، مګر يواځې (ابليس) له سجدې کولو څخه سر وغړاوه، چې په اصل کې له پيريانو څخه وو.

دالله تعالى په علم کې له اوله دى کافر وو، مګر نورو ته اوس د هغه عصيان او کفر ورښکاره شو، يا يې داسې وښوله چې اوس کافر شو، ځکه چې د پاک الله امر يې د تکبر او لويي له امله ونه مانه، او دالله جل جلاله حکم يې له مصلحت او حکمت څخه مخالف او د ننګ او عار موجب وګانه، او يواځې له دې جهته کافر نه شو چې سجده يې ونکړه.

وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿٣٥﴾

او وويل مونږ اى آدمه ! واوسيږه ! ته او ښځه ستا په جنت کې، او خورئ ! له ميوو د جنته (څه چې مو زړه غواړي) پرېمانه هر چېرته مو چې خوښه وي، او مه نږدې کيږئ دې ونې ته (دمېوې خوړولو لپاره) (که نږدې شوئ) نو شئ به له ظالمانو څخه.

فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ وَقُلْنَا اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٣٦﴾

پس وښويول دوى دواړو لره شيطان له جنته (د ونې نږدېوالي په واسطه) نو ويې ايستل دواړه له هغه جنت څخه چې وو دوى په هغه کې، او وويل مونږ چې کوز شئ (له جنته ځمکې ته) حال دا چې ځينې ستاسې به له ځينې نورو سره دښمنان وي، او شته تاسې ته په ځمکه کې ځاى دهستوګنې او اسباب د ګټې (فائدې) اخستلو تر يوه وخته پورې (چې اجل قيامت دى).

تفسير: يعنې په دنيا کې به تل نه اوسيږئ، بلکه تر يوې تاکلې مودې پورې به هلته اوسيږئ، او د هغه ځاى له شيانو څخه به ګټه (فائده) اخلئ، بيا به له ما سره مخامخ کيږئ، او هغه تاکلى وخت هر چا لره د مړينې وخت دى، او ټولو مخلوقاتو ته په مجموعي ډول دقيامت ورځ ده.

فَتَلَقَّىٰ آدَمُ مِنْ رَبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿٣٧﴾

پس زده کړل آدم له پروردګار خپل څخه څو کلمې پس رجوع وکړه (الله) په هغه باندې (په رحمت سره) بېشکه هم دې دى ښه توبه قبلوونکې ښه مهرباني کوونکى.

تفسير: کله چې آدم عليه السلام د الله تعالى دا عتاب واورېد، او له جنت نه ووت، نو د ندامت او پښېماني په حالت کې په ژړا او واويلا او په زاري مشغول شو، په دې وخت کې حق تعالى په خپل فضل او مرحمت سره ده ته څو کلمې د القاء او الهام په توګه ورزده کړې، چې دهغو په لوستلو د ده توبه قبوله شوه، هغه کلمې دادي: ﴿رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾ د (الأعراف سورت لمړۍ رکوع، ۲۳ آيت).

قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا

(بيا) وويل مونږ چې: کوز شئ له جنته ټول.

تفسير: مطلب دا دى چې حق تعالى د آدم عليه السلام توبه قبوله کړه خوجنت ته يې سمدلاسه ورتګ امر ورنکړ، بلکه امر يې وکړ چې په دنيا کې هستوګنه وکړي، ځکه چې دهغه حکمت او مصلحت اقتضاء همداسې وه، ښکاره خبره

ده چې دې يې د ځمکې لپاره «خليفه» ټاکلی وو، نه د جنت لپاره، او الله تعالی همداسې فرمايلي دي: هر هغه څوک چې زما تابع او منونکی وي نو هغه ته به د دنيا هستوګنه هيڅ ضرر نه رسوي، بلکه ګټه ورته لري، هو ! نافرمانو خلقو ته دوزخ دی، د دغو دوه وو متضادو عنصرونو د بيلوالي او امتحان لپاره همدا دنيا مناسب ځای دی.

فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٨﴾

پس که راغی تاسې ته له ما ځنې کوم هدايت پس هر څوک چې پيروي وکړي د هدايت زما پس نه به وي هيڅ قسم وېره پر دوی باندې او نه به دوی (هيڅېږي) خپه کيږي (او جنت ته به ځي).

تفسير: هغه صدمه او اندېښنه چې چاته د کوم مصيبت له پېښيدو څخه پخوا پېښيږي هغې ته خوف وايي، او هغه غم او خپګان چې انسان ته له مصيبته وروسته رسيږي، هغه ته حزن وايي، مثلا هغه کيفيت ته چې د يوه مريض د مړ کېدلو له تصور نه چاته ورسيږي خوف دی، او هغه کيفيت ته چې د هغه له مړ کېدلو څخه وروسته پيدا کيږي حزن وايي، مثلا د هغه خوف او حزن نفي چه په دې آيت کې شوې ده، که له هغه څخه دنيوي (خوف) او (حزن) مراد شي، نو د هغه معنی به داسې کيږي: هغه کسان چې زما له هدايت سره سم تګ کوي نو دوی ته هيڅ ددې اندېښنې ځای نشته چې دا به حق هدايت نه وي، او د شيطان له لوري به فريب او مغالطه وي، او نه به دوی د دې له امله غمجن وي، چې اوس خو د دوی له پلار څخه جنت اخيستی شوی دی، ځکه د هدايت لار موندونکي ته ژر تر ژره جنت ور رسيږي او که اخروي «حزن» او «خوف» مراد وي، نو به يې مطلب داسې وي چې په قيامت کې به د هدايت خاوندانو ته نه (خوف) وي، او نه (حزن) مګر د (حزن) په نشتوالي کې خو هيڅ دشک او شبهې ځای نشته، ځکه د (خوف) له نفي څخه دا اندېښنه په زړه کې رالويږي چې دجزا په ورځ کې تر انبياوو عليهم السلام پورې به هم په (خوف) او وېره کې وي، او هيڅ څوک به بې وېرې نه وي خبره داده چې (خوف) په دوه ډوله دی: کله د خوف باعث او مرجع په وېريدونکي کې ليدل کيږي لکه چې پاچاهي مجرم له پاچا ځنې وېريږي، نو د (خوف) موجب جرم دی چې نسبت يې ورته کيږي، او کله د خوف منشأ (مخوف منه) وي، يعنې لکه چې يو بې ګناه شخص چې د بادشاه يا د زمري له هيبت څخه وېريږي، نو د دې وېرې سبب دا نه دی چې ګواکې دغه شخص د پاچا يا د زمري په مقابل کې کومه ګناه کړيده، بلکه د پاچا قهر او جلال، يا د زمري سبعيت، غضب او هيبت، ددغه خوف موجب ګرځېدلی دی، چې منشأ يې د پاچا خلاف يا د زمري هيبت دی، نو په دې آيت کې يې لومړی ډول (خوف) نفي کړ نه دوهم ډول، دا شبهه خو هلته وارد ېدله چې د ﴿فَلَا خَوْفٌ﴾ په ځای يې (لا خوف فيهم) يا ﴿لا يخافون﴾ فرمايلي وی.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٣٩﴾ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَوْفُوا بِعَهْدِي أُوفِ بِعَهْدِكُمْ وَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ﴿٤٠﴾

او هغه کسان چې کافران شوي دي او دروغ ګڼي آياتونه ځمونږ هم دغه کسان صاحبان د اور (دوزخ) دي، هم دوی به په هغه (اور د دوزخ) کې همېشه وي. ای بني اسرائيلو ! (اولاد د يعقوبه !) ياد کړئ نعمت زما هغه چې انعام مې کړی دی پر تاسې او وفا وکړئ په عهد زما (په متابعت د نبي) چې زه هم وفا وکړم په عهد ستاسې (په دخول د جنت) او خاص له ما نه پس ووېرېږئ (له مناهيو ځان وساتئ، او د دنيوي منافعو له لاس وتلو څخه مه وېرېږئ !).

تفسير: اول ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا﴾ عام خطاب وو، او په هغه کې د هغو نعمتونو ذکر وو، چې ګردو بنيادمانو ته په عمومي ډول ورکړی شوی وو، مثلا د ځمکې، آسمان، او نورو ګردو شيانو پيدايښت، بيا د آدم عليه السلام د پيدايښت، او د

هغه د خلافت او جنت ته د ادخال او نورو یادونه وشوه، اوس له بنیادمانو څخه خاص بني اسرائیلو ته خطاب کړی شوی دی، او هغه خاص نعمتونه یې ور په یاد کړي دي چې وخت په وخت او پشت په پشت یې پر دوی انعام کړی دی، او هغه ناشکري چې دوی د نعمتونو په مقابل کې کړې ده، د هغو ځکردو یادونه په مفصل ډول سره کولی شي، ځکه چه بنی اسرائیل دبنیادمانو په ټولو فرقو کې ممتاز وو، د علم خاوندان د آسماني کتابونو، انبیاوو، او دنبوت پیژوندونکي او لرونکي وو، او دځکردو عربو سترګې د هغوی په لور وې چې آیا بني اسرائیل زمونږ د پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم د رسالت تصدیق کوي که نه؟ نو له دې امله یې د انعاماتو او خرابیو یادونه په تفصیل سره فرمایلې ده چې دوی ښه پرې متأثر شي او د خجالتی په سبب ایمان راوړي، او که نه نور خلق خو به په دې وسیله د دوی له دې حرکاتو څخه واقف شي، او بیا به د هغوی په نورو خبرو باور نه کوي.

اسرائیل د یعقوب علیه السلام نوم دی چې معنی یې بنده د الله یعنی عبد الله ده.

﴿اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ﴾ الآیة - یاد کړئ ای بني اسرائیلو ! نعمت زما هغه چې انعام مې کړی دی پر تاسې، چې په زرګونو انبیاء یې په دوی کې مبعوث کړي دي، (تورات) او نور کتابونه یې پر دوی نازل فرمایلي دي، دوی یې د فرعون له عذابه ژغورلي دي، د دوی تصرف او تسلط یې د شام پر هیواد قائم کړی دی، پر دوی یې د (من) او (سلوی) خواړه نازل کړي دي، له یوې تیرې څخه یې د اوبو دولس چینې دوی ته بهولي دي، او هسې نعمتونه او د عاداتو خوارق یې ور په برخه کړي دي چې د نورو خلقو په برخه شوي نه دي.

﴿وَأَوْفُوا بِعَهْدِي﴾ الآیة - او وفا وکړئ په عهد زما په متابعت د نبي چې زه هم وفا وکړم په عهد ستاسې په دخول د جنت.

په (تورات) کې هسې امر شوی وو، چې تاسې د (تورات) پر احکامو ټینګ اوسئ ! او په هر نبي علیه السلام باندې چې در ویې لیږم ایمان راوړئ ! او له هغه سره ملګرتیا وکړئ ! چې د (شام) هیواد ستاسو په قبضه کې پاتې شي، بني اسرائیلو دا ځکردې خبرې منلې وې، مګر بیا دوی په خپلو دغو وعدو ونه دربدل، په بد نیتۍ یې پیل وکړ، په رشوتونو باندې یې خبرې او مسئلې اړولې او غلطې یې ورښوولې - او حق به یې پټاوه- وروسته له دې چې خپل ریاست یې قائم کړ، د انبیاوو له اطاعت څخه یې سر وغړاوه، بلکه د ځینو په وژلو یې لاس هم پورې کړ، د (تورات) په هر ځای کې چې د محمد صلی الله علیه وسلم صفتونه او ستاینې وې هغه یې بدلې کړې، نو ددې شیانو له امله ځکمراهان شول.

وَآمِنُوا بِمَا أَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُونُوا أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا وَإِيَّايَ فَاتَّقُونِ ﴿٤١﴾ وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤٢﴾

او ایمان راوړئ ! په هغه کتاب چې نازل کړی دی ما حال دا چې (تصدیق کوونکی دی د هغه کتاب) چې تاسې سره دی، او مه کېږئ ! اول کافر (نه منونکي) په دې (قرآن) باندې او مه پېږئ (مه آخلئ) په آیتونو زما قیمت لږ، او خاص له ما نه ووېرېږئ ! (دا کار مه کوئ !) او مه ځلوئ حق له باطل سره (خپل دروغ له رښتیا د «تورات» سره) او (مه) پټوئ ! حق حال دا چې تاسې پوهېږئ (په دې خلط او پټولو سره).

تفسیر: په (تورات) کې لیکل شوي وو، هغه پیغمبر چې د (تورات) تصدیق وکړي هغه صادق دی، نو تاسې یې ومنئ او که (تورات) ونه منې دروغ وایي.

(تنبیه): قرآني احکام په اوامرو، نواهیو او د انبیاوو په عقایدو، سوانحو، اخبارونو، او د آخرت په احوالو، او نورو شیانو کې له (تورات) او نورو پخوانیو کتابونو سره سم او موافق دی، هو ! د هغوی ځینې اوامر او نواهي منسوخ شوي دي،

مګر هغه د تصديق ځنې مخالف نه دي، د تصديق مخالف تکذيب دی، او د الله جل جلاله د کتابونو تکذيب بيخي کفر دی، ځينې قرآني آيتونه هم منسوخ شوي دي، مګر (نعوذ بالله) هغه ته ځوک تکذيب نه وايې، ځکه چې نسخ په انشاء او تکذيب په اخبار کې راځي.

﴿وَلَا تَكُونُوٓا۟ أَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهِۦ﴾ الآية – او مه کيږئ اول کافر نه منونکي په دې قرآن باندې، يعنې تاسې سره له پوهې لومړني تکذيب کوونکي مه شئ ! چې تر قيامته پورې به د منکرانو ګناه ستاسوپه غاړه کې لويږي، که د مکې مشرکان تکذيب او انکار کوي، خو هغه د دوی له جهل او بېخبرۍ ځنې دی، او په قصد سره نه دی، نو سره له پوهې اول منکران تاسو يئ !او دا کفر له لومړني کفر څخه ډېر سخت دی.

وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرْكَعُوا۟ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾

او سم قائموئ (په ښه ترتيب سره ادا کوئ) لمونځ !او ورکوئ زکات !او رکوع وکړئ !سره له رکوع کوونکو (لمونځ کوونکو مسلمانانو).

تفسير: يعنی په جماعت سره لمونځ وکړی، خلاصه دا چه په ټولو أصولو کښی دآخر الزمان نبی صلی الله عليه وسلم پيروي وکړی او لمونځ هم دهغه په طريقه أدا کړی.

أَتَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ ٱلْكِتَٰبَ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾

آيا امر کوئ تاسې نورو خلقو ته په نېکۍ سره او هېروئ ځانونه خپل؟ حال دا چې تاسې لولئ کتاب (چې په کې د قول او عمل په نه سمون وعيد دی) آيا تاسې نه پوهيږئ(دخپلو افعالو په بدۍ).

تفسير: ديهودانو ځينو عالمانو به داسې کول، چې نورو خلقو ته به يې ويل چې «داسلام دين ښه دی، او دوی به په خپله نه مسلمانېدل» دې يهودي پوهانو او نورو ظاهربينو خلقو ته به په دغسې مواردو کې داسې شبهې پيدا کېدې «کله چې مونږ د شريعت د احکامو په تعليم کې قصور نه کوو او حقه خبره نه پټوو نو دېته به څه ضرورت پاتې وي، چې مونږ په خپله هم پرې عمل وکړو، لکه چې زمونږ له هدايت سره سم ډېر خلق شرعي احکام ادا کوي نو د (الدال علی الخير کفاعله) په حکم سره د دوی عملونه ځمونږ دي»، نو په دې آيت کې ددې دواړو مفکورو بطلان فرمايل شوی دی.

ددې آيت مطلب دا دی چې واعظ ته ښايې چې په خپل وعظ باندې خامخا عمل وکړي، او دا غرض نه دی چې فاسق دې چا ته نصيحت نه کوي.

وَٱسْتَعِينُوا۟ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى ٱلْخَٰشِعِينَ ﴿٤٥﴾ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُوا۟ رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَٰجِعُونَ ﴿٤٦﴾

او مدد وغواړئ (په هره سختۍ کې له الله) په صبر او لمانځه سره او په تحقيق دا لمونځ خامخا ډېر دروند دی مګر (نه دی دروند) په عاجزي کوونکو (خوند آخيستونکو له طاعته). هغو کسانو چې يقين کوي چې بېشکه دوی مخامخ کيدونکي دی له پروردګار خپل سره او په تحقيق سره دوی هم ده ته (په آخرت کې) بېرته ورتلونکي دي.

تفسير: د اهل کتاب عالمانو چې د حقانيت له څرګندېدلو نه وروسته يې هم په محمد صلی الله عليه وسلم ايمان نه راوړ، د هغه لوی سبب دمال او جاه سره مينه او محبت وو؛ چې الله تعالی ددې دواړو علاج دلته ورښودلی دی، د صبر

کولو په سبب د مال مینه او حرص له مینځه ځي، او د لمونځ کولو په اثر عبودیت او تذلل پیدا کیږي، او د لویوالي مینه کمیږي، او په تحقیق لمونځ ډېر دروند دی مګر نه دی دروند په عاجزي کوونکو خوند اخیستونکو له طاعته، یعنې صبر او د زړه په حضور لمونځ کول ډیر دروند او سخت کار دی، مګر دا سخت کار یواځې په هغه چا آسان دی چې عاجزي کوي او له الله تعالی نه ویریږي، او ددوی خیال او فکر په همدې لوري وي چې مونږ خامخا له الله تعالی سره مخامخ او د هغه الله په لوري ورتلونکي یو، یعنې په لمانځه کې د الله تعالی تقرب حاصلیږي، ګواکې (ګویا کې) له هغه سره کتنه ده، یا به په قیامت کې د حساب او کتاب لپاره ور وړاندې کیدونکي یو.

يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ٤٧

ای بني اسرائیلو (دیعقوب اولادې !) یاد کړئ نعمت زما هغه چې انعام مې کړی دی په تاسې او (بل دا یاد کړئ ! چې) بېشکه ما غوره کړي یئ تاسې (نیکونه ستاسې) په خلقو (د زمانې خپلې).

تفسیر: څرنګه چې تقوی او کامل ایمان حاصلول د صبر، حضور، او په عبادت کې د غرق کیدلو په وسیله سخت وو، نو آسانه لاره یې ښیي چې هغه شکر دی، نو ځکه حق تعالی خپل هغه انعامات او احسانات ور په یادوي چې وخت په وخت یې په دوی باندې کړي دي، او هم د دوی د ناوړو (نارواوو) کارونو ذکر کوي، دا یوه فطري مسئله ده، چې نه یواځې انسان، بلکه حیوانات هم د خپل منعم سره مینه لري، او د هغه پیروي کوي، هم دغه مضمون په څو رکوع ګانو کې په مفصل ډول بیان شوی دی.

فائده: په عالمیانو باندې دبني اسرائیلو له فضیلت څخه مطلب دا دی چې دوی د پیدایښت له ابتدا څخه ددې خطاب تر نازلېدو پورې په نورو ګردو فرقو فضیلت درلود، او هیڅوک د دوی ساری (سیال) نه وو، کله چې هغوی د پاک قرآن او د آخرې زمانې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مقابل کې ودرېدل، نو د دوی فضیلت له منځه لاړ، او د ﴿الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ﴾ او ﴿الضَّالِّينَ﴾ لقب ور په برخه شو، او د محمد صلی الله علیه وعلی آله وأصحابه وسلم پیروانو (تابعدارانو) ته د ﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ﴾ صفت ورکړ شو.

وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا يُؤۡخَذُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ٤٨

او ووېرېږئ (له عذابه) د هغې ورځې چې لرې کولی به نه شي هیڅ نفس له هیڅ (کافر) نفس څخه هیڅ شی (له عذابه) او نه به منل کیده شي له دغه نفس څخه شفاعت (سپارښت د هیچا) او وابه نه خیستئ شي له دغه نفس څخه بدل (فدیه) او نه به له دوی سره مدد وکړی شي (په دفع د عذاب کې).

تفسیر: کله چې څوک په کومه بلا اخته کیږي؛ نو د هغه دوستان زیاتره له دې وسیلو څخه کار اخلي، لومړی د هغه د حق د ادا کولو لپاره زیار (محنت) کوي، که په دې وسیله کار ونه شو، نو د سپارښت په وسیله زیار (محنت) کوي چې هغه له دې بلا نه وژغوري (وساتي)، که یې په دې سره هم څه له لاسه ونشوه، نو خپل دوستان او مرستیالان سره ټولوي، څو د هغه د ژغورلو (ساتلو) لپاره څه تدبیر جوړ کړي، که په دې توګه هم څه کار ونه شو نو بیا څه تاوان او فدیه وروړاندې کوي چې خپل عزیز له هغې بلا نه خلاص کړي، که په دې څلورو طریقو هم څه ونه شي، نو خپل مرستیالان (مدد ګاران) راټولوي، څو چې د متو په زور او قوت سره هغه وژغوري، حق تعالی هم له پورتني ترتیب سره سم دلته ارشاد فرمایي چې: کوم سړی که په هره اندازه وي، د الله تعالی دښمنانو ته له دې څلور ګونو صورتونو څخه په هیڅ یو صورت کې څه ګټه نشي رسولی.

بني اسرائيلو به ويل: كه مونږ هر څومره زياته ګناه هم وکړو، الله تعالى په مونږ عذاب نه نازلوي، او نه له مونږ څخه پوښتنه کوي، ځکه چې ځمونږ پلرونه او نيکونه انبياء تېر شوي دي، هغوى له الله تعالى څخه ځمونږ مغفرت او برائت حاصلوي، نو الله تعالى فرمايي چې: ستاسې دا خيال غلط دى.

ددې آيت په سبب له هغه شفاعت څخه انکار نه کيږي، چې په هغه باندې مونږ (اهل السنت والجماعت) قائل يو لکه چې په نورو آيتونو کې مذکور دي، دغه آيت سره د ظاهري تعميم او نور قرآني آيتونه د ﴿فَمَا لَنَا مِن شَٰفِعِينَ﴾ (الشعراء سورت سلم آيت) په اساس يوائې په هغه شفاعت پورې تخصيص لري؛ چې شافع يا مشفوع له يا شفاعت کې کفر، شرک، او يا له مړو څخه شفاعت غوښتل شوى وي.

وَإِذْ نَجَّيْنَٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٤٩﴾

او (ياد کړئ) هغه وخت چې نجات درکړى وو، مونږ (نيکونو) ستاسې ته له عملې د فرعون څخه؛ چې رساوه به يې تاسې ته سخت عذاب، چې ذبح کول به يې ځامن ستاسې او ژوندي به يې پرېښودې (دخدمت لپاره) ښځې (لونې) ستاسې، او په دې (حلالولو يا خلاصولو يا ټولو کې مصيبت يا نعمت يا ...) کې امتحان وو له (طرفه) د پرودګار ستاسې ډېر لوى.

تفسير: ﴿بَلَآءٌ﴾ څو معنى ګڼي لري، که د ﴿ذَٰلِكُمْ﴾ اشاره د ذبحې په لورې واخيستلى شي، نو معنى به يې «مصيبت» وي، که نجات ته اشاره وي نو د ﴿بَلَآءٌ﴾ معنى به «نعمت» وي، او که د ذبحې او نجات دواړو په لورې اشاره وي، نو له ﴿بَلَآءٌ﴾ څخه به مطلب «امتحان» او ازموينه وي.

وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ ٱلْبَحْرَ فَأَنجَيْنَٰكُمْ وَأَغْرَقْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿٥٠﴾

او (ياد کړئ) هغه وخت چې څيرې کړ مونږ د تاسې لپاره بحر؛ نو نجات درکړ مونږ تاسې ته، او غرق کړل مونږ عمله د فرعون (سره له فرعون) حال دا چې تاسې ورته کتل.

تفسير: يعنې اى بني اسرائيلو ياد کړئ هغه لوى نعمت چې ستاسې پلرونه او نيکونه د فرعون له وېرې وتښتېدل، او داسې يو ځاى ته ورسېدل، چې وړاندې مخامخ دوى ته لوى درياب او وروسته په دوى پسې د فرعون لوى لښکر راته، چې هغوى را چاپېر او ټول سره ګير او په لوى عذاب او ويرې اخته کړي، نو مونږ تاسې ته نجات او خلاصى در کړه، او د فرعون لښکر مو ټول ډوب کړ، دا قصه وروسته په تفصيل سره راځي.

وَإِذْ وَٰعَدْنَا مُوسَىٰٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿٥١﴾

او (ياد کړئ) هغه وخت چې وعده کړې وه مونږ له موسى سره څلوېښت شپې، بيا ونيوه تاسې خوسى (سخى) (معبود) پس له (تللو) د موسى (طور ته) او وئ تاسې (په دې کار کې په خپلو نفسونو) ظالمان.

تفسير: دا قصه او احسان هم د يادولو وړ (لائق) دى چې مونږ له موسى عليه السلام سره د (تورات) د ورکولو وعده څلوېښت شپې او ورځې کښوده، وروسته له دې چې موسى د (طور) غره ته تشريف يووړ، بني اسرائيل د خوسي (سخي) په عبادت مشغول او لګيا شول، نو تاسې ډېر بې انصافي يې چې خوسى (سخى) مو په خپلې خدايي وټاکه (ونيوه) دا قصه هم په تفصيل سره راځي.

ثُمَّ عَفَوْنَا عَنكُم مِّن بَعْدِ ذَٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٥٢﴾

بيا عفوه وكړه مونږ له تاسې نه وروسته له دغه (دخوسي «سخي» دعبادت كولو نه) لپاره ددې چې تاسې شكر ګذار شئ.

تفسير: مطلب دا چې مونږ ستاسې له دې ښكاره شركه سره بيا هم ستاسې له دې ګناه نه تېر شو، او ستاسې توبه مو ومنله، او تاسې مو سمدلاسه لكه د فرعونيانو په شان ونه وژلئ، كه څه د هغوى ګناه نسبت تاسو ته لږه هم وه، خو هلاك مو كړل چې تاسې يې شكر ادا كړئ، او ځما احسان ومنئ.

وَإِذْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿٥٣﴾

او (ياد كړئ) هغه وخت چې وركړى وو مونږ موسى ته كتاب (تورات) او بيلوونكى (دحق او باطل) لپاره ددې چې تاسې سمه لاره وموميئ (په تورات سره).

تفسير: كتاب خو (تورات) دى، له (فرقان) نه هغه شرعيه احكام مراد دي چې د هغوى له مخې جائزې او نا جائزې مسئلې راڅرګندېږي، يا له (فرقان) نه مقصد د موسى عليه السلام معجزې دي، چې دهغوى له مخې به د رښتيا او دروغو او دمؤمن او كافر تميز كېده، يا به (فرقان) د همغه كتاب (تورات) بدل وي، چې په هغه سره هم حق او نا حق جلا (جدا) كيږي.

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ

او (ياد كړئ !) هغه وخت چې وويل موسى قوم خپل ته

تفسير: له قوم نه خاص همغه خلق مراد دي، چې هغوى خوسي (سخي) ته سجدې كولې.

يَا قَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُم بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوبُوا إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ

اى قومه زما ! بېشكه تاسې (چې يئ) ظلم كړى دى تاسې پر ځانو خپلو په سبب د نيولو د تاسې خوسي (سخي) لره (په الوهيت سره) پس توبه وباسئ (ټول) خالق خپل ته نو ووژنئ ځانونه خپل؛

تفسير: يعنې هغه كسان چې خوسي (سخي) ته يې سجده نه ده ايښې، هغوى دې هغه كسان ووژني چې خوسى (سخى) يې معبود ګڼلى، او سجده يې ورته كړې وه.

ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِندَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿٥٤﴾

دغه (ځان وژل) ستاسې بهتر دي تاسې ته په نزد د خالق ستاسې، پس قبوله يې كړه توبه ستاسې ! بېشكه الله هم دى ښه توبه قبلوونكى ښه مهربان دى (په توبه كوونكو).

تفسير: عالمان په دې خبره كې سره اختلاف لري چې آيا همدا وژل كېدل توبه وه؟ او كه د توبې تتمه وه؟ لكه چې ځمونږ په «محمدي شريعت» كې د عمد د قاتل د توبې د مقبوليت لپاره دا خبره هم ضروري ده، چې قاتل دې د مقتول د ورثې په لاس كې وسپارلى شي، د مقتول وارثان واك او اختيار لري چې هغه قاتل ووژني، كه يې بخښي.

وَإِذْ قُلْتُمْ يٰمُوسٰى لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ الصّٰعِقَةُ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿٥٥﴾
ثُمَّ بَعَثْنٰكُمْ مِّنْ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٥٦﴾

او (یاد کړئ !) هغه وخت چې وویل تاسې: ای موسی ! له سره به باور ونکړو مونږ په خبره ستا تر هغه پورې چې په خپله وینو الله ښکاره، پس ونیولئ تاسې تندر حال دا چې تاسې (ورته) کتل، پس له هغه بیا ژوندي کړئ مونږ تاسې پس له مړکه ستاسې لپاره ددې چې تاسې شکر ګذار شئ.

تفسیر: هغه وخت هم ضرور یاد کړئ ! چې سره له دومره احسانونو او ښیګنو تاسې موسی علیه السلام ته وویل چې: «مونږ په دې خبره تر هغه پورې باور نشو کولی چې دا د پاک الله خبرې دي، ترڅو مونږ پخپلو سترګو الله تعالی ونه وینو» ستاسې دهمدې غوښتنې په سبب وو چې د برېښنا په وسیله ووژل شوئ، بیا د موسی علیه السلام په دعا سره بېرته ژوندي شوئ.

دا د هغه وخت قصه ده چې موسی علیه السلام اویا (٧٠) تنه غوره سړي له ځانه سره د (طور) غره ته بیولې وو، چې د الله تعالی کلام واوري، کله چې دوی په خپلو غوږونو د پاک الله خبرې واوربدلې نو د بني اسرائیلو هم دې اویا تنو منتخبو سړیو وویل چې: «مونږ په داسې خبرو باندې چې ویونکی یې نه راښکاري او نه یې وینو؛ باور نشو کولی، مونږ ته الله تعالی راوښیه ! چې په خپلو سترګو یې په عین المشاهده ووینو، او په غوږونو سره د هغه خبرې واورو، ددې غوښتنې له امله و چې وربانديې ټکه (تندر) ولوېده، او د تندر له اثره ټول سره مړه شول.

وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَأَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ
وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿٥٧﴾

او (یاد کړئ) هغه وخت چې سوری ګرځولی وو مونږ په تاسې وربځ (د تیه په میدان کې) او نازل کړی وو مونږ په تاسې من (ترنجبین) او سلوی (مړغان) وخورئ ! له پاکیزو د هغو شیانو نه چې درکړې دي مونږ تاسې ته، او ظلم نه وو کړی دوی پر مونږ باندې (هیڅ په دغه عصیان سره) او لیکن وو دوی چې په ځانونو خپلو به یې ظلم کاوه (په کفران او عصیان سره).

تفسیر: کله چې فرعون ډوب شو او بني اسرائیل د الله تعالی په امر سره له (مصره) نه د (شام) په لوري رهي (روان) شول، په یوه سپېره ډاګ (صفا میدان) کې د هغوی خیمې وشلېدې، او دوی د لمر له تودوالي نه سخت په عذاب شول، دلته د الله تعالی په فضل سره دوی باندې د وربځې سوری وشو، څرنګه چې دوی ته دخوړلو لپاره څه شی نه پیدا کېده، د پاک الله له لوري د دوی د خوړلو لپاره (من) او (سلوی) ورنازل شول، (من) لکه نبات یو ډېر خوږه خواړه وو، او دانې به یې ترنجبین (دځوزو ګوړی) ته ورته وې، کله چې دوی د شپې له مخې ویده کېدل، سحر (ګهیځ) به ددې لښکر په شاوخوا کې د (من) انبارونه پراته وو، چې هر چا به له هغې څخه دخپل حاجت سره سم اخیسته، او «سلوی» یو مرغه دی چه مونږ ورته مړغ وایو، چې هر مابنام به ددې مړغانو په زرهاوو دانې سره ټولېدلې، چې د لږ څه تیارې څخه وروسته به هر سړي له هغو ځنې خپل ضرورت سره سم نیول، وریتول او خوړل به یې، تر ډېرې مودې پورې ددوی خواړه همدا (من) او (سلوی) وو.

﴿كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ﴾ - خورئ تاسې له پاکیزه د هغو شیانو چې روزي درکړی ده مونږ تاسې ته، یعنې په دې لطیفې او خوندورې غذا باندې اکتفاء وکړئ، او په ډېره خوښۍ سره یې وخورئ، او د بلې ورځې لپاره یې د ذخیرې (زېرمې) په ډول مه ساتئ، او له نورو سره د هغه د مبادلې غوښتنه مه کوئ.

﴿وَمَا ظَلَمُونَا﴾ الآيه – او هيڅ ظلم نه ووكړئ دوی پر مونږ باندې په دغه عصيان سره، ليکن دوی په خپلو ځانونو باندې ظلم کوي په کفران او عصيان سره، اول يې داسې ظلم وکړ چې ددې په زېرمه (ذخيره) کولو يې پيل (شروع) وکړ، چې هغه به ورستېده، بدبويي به يې خټله، دوهم يې د هغې د مبادلې غوښتنه وکړه چې نسک، هوبره، پياز، او نورې غلې او ترکارۍ راکړی شي، چې ددې له امله په راز راز تکليفونو اخته شول.

وَإِذْ قُلْنَا ادْخُلُوا هَٰذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا حِطَّةٌ نَغْفِرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ وَسَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ ﴿٥٨﴾

او (ياد کړئ !) هغه وخت چې وويل (مونږ بنې اسرائيلو ته د موسی په ژبه) چې ننوځئ ! دغې قريې (أريحا) ته، پس خورئ ! له (ميوو د) دې ځخه هر چېرته چې مو خوښه وي (څه چې مو زړه غواړي) پرېمانه او ننوځئ ! په دروازه (ددې ښار) کې سجده کوونکي او ووايئ ! (ای ربه وبخښه ځمونږ ګناهونه !) چې وبخښو تاسې ته ګناهونه ستاسې، او ژر ده چې زيات به کړو نېکانو ته (اجر).

تفسير: کله چې بنې اسرائيل په ددې پاس ډاګ کې له ډېرو ګرځېدلو ځخه تنګ شول، او د ډېر (من) او (سلوی) له خوړلو ستړي شول، نو پر دوی امر وشو چې په هغه ښار کې ننوځي ! چې نوم يې (اريحا) وو، او په هغه کې د (عمالقه) قوم چې د (عاد) له قومه ځخه وو هستوګنه درلوده (لرله)، ځينې وايې چې: دا ښار بيت المقدس وو.

﴿وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا﴾ او ننوځئ په دروازه ددې ښار کې سجده کوونکي (يعنې) ددې ښار په دروازه کې د شکر سجده وکړئ !، او بيا په کې ننوځئ، دا خو بدني شکر شو، ځينې وايي چې: د تواضع او عاجزۍ له امله خپل ملاوې لږ ځه کړې کړئ ! او په ژبه سره د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړئ ! دا خو لساني شکر شو، هر هغه څوک چې دا دواړه کارونه کوي، دهغه ګردې خطاوې بخښلی کيږي، او د نيکو بندګانو ثوابونه ورزياتوو.

فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ فَأَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا رِجْزًا مِنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿٥٩﴾

پس بدله کړه هغو کسانو چې ظلم يې کړی وو (په خپلو ځانونو) خبره په بل شان له هغې خبرې ځخه چې ويلې شوې وه دوی ته؛ پس نازل کړ مونږ پر هغو کسانو چې ظلم يې کړی وو عذاب له (طرفه) د آسمانه په سبب ددې چې وو دوی چې سر به يې غړاوه (د الله له فرمانه).

تفسير: داسې تبديلي يې په کې وکړه، چې د (حطة) په ځای يې دتوکو او مسخرو په ډول (حنطة) وويل (چې معنی يې غنم دی) او دسجدې په ځای به په خپلو کوناټيو سوئيدل، کله چې هغه ښار ته ورسېدل، نو په هغوی کې طاعون ور ګډ شو، او په يوه ماسپښين کې اويا زره يهودان مړه شول.

وَإِذِ اسْتَسْقَىٰ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْحَجَرَ فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا

او (ياد کړئ !) هغه وخت چې اوبه وغوښتې موسی خپل قوم ته (په ميدان د تيه کې) پس وويل مونږ (موسی ته) چې ووهه په همسا خپلې سره تيږه (ګټه) (نو چې ويې وهله تيږه) پس وخوځېدلې (روانې شوې) له هغې تيږې ځخه دوولس چينې.

تفسير: دا قصه هم دهغه ميدان ده، كله چې هغوی اوبه ونه ميندلې، نو موسی عليه السلام پر يوه تيږه باندې خپله همسا ووهله، نو دولس چينې وبهېدې، حال دا چې د بني اسرائيلو قبيلې هم دولس دي، دځينو قبيلو سړي زيات او دځينو قبيلو سړي لږ وو، د هر قوم په تناسب يوه چينه وه، او دپيژندګلوی نسبه يې هم دغه موافقت وو، يا داسې ټاکلی (مقرر) شوی وه چې ددې تيږې له فلانی خوا چې په فلاني لوري کومې اوبه بهيږي، هغه به د فلاني قوم اوبه وي، هغه لنډه نظره چې له هسې معجزاتو ځنې انکار کوي، نو (سړي نه دي، دوی دي چپ له سړيتوبه) وګورئ ! چې «مقناطيس» په څه ډول سره اوسپنه خپل لوري ته کشوي (را کاږي) نو دې تيږې ته هم الله تعالی هسې يو قوت وربخښلی وو چې له هر لوري ځنې به يې اوبه ځانته کشولې (راښکلې) او بيا به يې خپلو شاوخواوو ته بهولې.

قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ كُلُوا وَاشْرَبُوا مِن رِّزْقِ اللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٦٠﴾

په تحقيق سره وپېژانده هر قوم ځای د اوبو څښلو خپلو (وويل مونږ) خورئ ! او څښئ ! له (خاصې) روزی د الله څخه (بې له واسطې د اسبابو) او مه تېرېږئ له حده په ځمکه کې حال دا چې ورانې کوونکي اوسئ تاسې (په خپل فساد اچولو سره).

تفسير: يعنی بيا الله تعالی وفرمايل چې: له (من) او (سلوی) ځنې خورئ، او ددغو چينو له اوبو ځنې څښئ، او په جهان کې فساد مه اچوئ !

وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَاحِدٍ فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنبِتُ الْأَرْضُ مِن بَقْلِهَا وَقِثَّائِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ۖ

او (ياد کړئ) هغه وخت چې وويل تاسې ای موسی ! هيڅکله صبر نشو کولی مونږ پر طعام يو (قسم د من او سلوی) باندې، پس وغواړه ځمونږ لپاره له خپل پروردګار نه چې راوباسي مونږ ته له هغو شيانو څخه چې زرغونوي يې ځمکه له سابو (ساګو) ددې، او له بادرنګو (ترو) ددې، او له هوړې (يا غنمو يا نخودو) ددې او له نسکو ددې، او له پيازو ددې.

تفسير: دا قصه هم د همغه ميدان ده، بني اسرائيلو چې د هغو غيبي طعامونو له خوړلو څخه ماړه شول نو يې په داسې وينا شروع وکړه.

قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَىٰ بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ ۚ

نو وويل (موسی) آيا بدلوئ ! (آخلئ) تاسې هغه شی چې هغه ناکاره دی په هغه شي چې هغه ډېر غوره دی.

تفسير: يعنې هغه (من — ترنجبين) او (سلوی — مړځان) چې له هره حيثه تاسې ته ښه دي په هوړو، پيازو، او نورو سره يې ولې بدلوئ؟

اهْبِطُوا مِصْرًا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلْتُمْ ۗ

(کله چې مو داسې وکړل نو) کوز شئ (دشام له تيه نه) يوه ښار ته پس بېشکه تاسې ته شته دي هغه شی چې غواړئ يې.

تفسير: که ستاسې زړه همداسې شيانو ته کيږي، نو کوم ښار ته لاړ شئ چې ستاسې دا مطلوبه شيان ټول درورسيږي لکه چې بيا همداسې وشول.

وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ

اومقرر کړی شو پر دوی (دنعمت دکفران او په خپل قسمت د نارضایۍ په سبب) ذلت او محتاجی، او اخته شول دوی په غضب له (جانبه د) الله.

تفسیر: ذلت او خواري هم دا ده چې يهودان تل د مسلمانانو او نصاری وو رعيت او محکوم دي، که څه هم له دوی سره ډېر مال وي، خو د پت او عزت خاوندان نه بلل کيږي، نو دا مال د هغو دخوارئ سبب او ددوی د ځان وبال ګرځي، يهودان له حکومت او خپلواکی ځنې چې د پت او عزت سبب دی، بيخي بې برخې دي، ولې چې دوی له هغه عظمت او عزت څخه چې الله تعالی دوی ته وربخښلی وو مخونه واړول، او رجوع يې ترې وکړه، نود الله تعالی په دې قهر او غضب اخته شول.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ ﴿٦١﴾

دا (خواري او عاجزي) په سبب ددې وه چې بېشکه دوی وو کافران (منکران) په آيتونو د الله او وژل به يې انبياء په نا حقه سره، دا (کفر او قتل) په دې سبب وو؛ چې سرکشي يې کوله (له احکامو د الله نه) او وو دوی چې له حدودو به تېريدل (دعصيان په سبب).

تفسیر: يعنې ددې ذلت او مسکنت او دالهي غضب باعث د دوی کفر او د انبياوو عليهم السلام وژل وو، او د کفر او قتل باعث؛ دالله تعالی د احکامو مخالفت او نافرماني او دشريعت له حدودو څخه وتل وو.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالنَّصَارَىٰ وَالصَّابِئِينَ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾

بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او هغه کسان چې يهودان شوي دي، او نصرانيان او بې دينان؛ هر هغه چا (له دوی ځنې) چې ايمان راوړی دی په الله او په ورځ د قيامت باندې او عمل يې کړی دی د نېکو (سم له محمدي شريعت سره) نو وي به دوی ته ثواب ددوی په نزد د رب ددوی او نه به وي (هيڅ قسم) وېره په دوی باندې او نه به دوی هيڅېرې خپه کيږي (په وخت د جزا کې).

تفسیر: يعنې دا عنايت په کومې خاصې فرقې پورې موقوف نه دی، ايمان راوړل شرط دي، نېک عمل چې د هر چا په برخه شو، همغه ثواب به مومي، نو ځکه يې وفرمايل چې: بني اسرائيل په دې خبره مغرور وو چې: «مونږ د انبياوو عليهم السلام اولاده يو مونږ له هره خوا الله تعالی ته نږدې او ښه يو».

فائده: د موسی عليه السلام امت ته (جهود) يا (يهود) او د عيسی عليه السلام امت ته (نصاری) يا (ترسا) وايې، (صابئين) داسې فرقه ده چې هغوی په خپل ګمان سره ښه ښه شيان له هره دينه خپلو ځانونو ته غوره کړي دي، لکه چې دوی ابراهيم عليه السلام مني، د پرښتو عبادت کوي، زبور لولي، د کعبې شريفې په لوري لمونځ کوي.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُم بِقُوَّةٍ وَاذْكُرُوا مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾

او (ياد کړئ) هغه وخت چې واخيست مونږ محکم عهد ستاسې څخه، او پورته کړ مونږ په سر

ستاسې د طور (غر) واخلئ هغه څه (احكام) چې درکړي دي مونږ تاسې ته په ښه کوښښ سره، او یاد کړئ هغه (احكام) چې په هغه کې دي؛ لپاره ددې چې تاسې ځانونه وساتئ (له ګناهونو څخه).

تفسير: وایې کله چې (تورات) نازل شو، نو بني اسرائیلو له شرارته ویل: «د (تورات) حکم دروند او مشکل دی، د هغه تعمیل ځمونږ له لاسه نه دی پوره»، ددې وینا له امله الله تعالی یوه غره ته امر وکړ چې د دوی په سرونو باندې راتیټ شي، نو په شاوخوا کې یې اورونه بل شول، او دوی ته هیڅ یو داسې فرصت او موقع پاتې نه شوه چې د (تورات) له منلو نه سر وغړوي، نو یې مجبورا د هغه احکامو ته غاړه کېښوده.

پاتې شوه دا شبهه چې د (تورات) په منلو کې د هغوی په سر باندې د غره ځړېدل څرګنده اکراه او اجبار دی چې د ﴿لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ﴾ له آیت څخه چې او د تکلیف له قاعدې نه بیخي خلاف دی، ځکه چې د تکلیف بناء خو په اختیار باندې ده، او اکراه له اختیار سره مناقضه ده.

نو ددې شبهې ځواب دادی چې: بني اسرائیلو د موسی علیه السلام دین لا له پخوا څخه منلی وو، او څو څو ځلې یې له موسی علیه السلام ځنې غوښتنه کړې وه چې «کوم هسې آسماني کتاب مونږ ته راوړئ، چې مونږ د هغه په احکامو عمل وکړو» او پر دې باندې یې معاهده سره کړې وه، نو کله چې (تورات) راغی، او هغوی ته وسپارل شو، عهد ماتولو ته یې ملاوې وترلې، دلته پر دوی باندې د غره تعلیق د وعده خلافۍ له امله وشو، نه د موسی علیه السلام د دین د نه منلو له سببه.

ثُمَّ تَوَلَّيۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۖ فَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ لَكُنتُم مِّنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٦٤

بیا شاه کړه تاسې (د الله له فرمانه وګرځیدئ) پس له دغه عهده؛ نو که چېرې نه وای فضل د الله پر تاسې او رحمت (مهرباني) دده (دتوبې په قبلولو او یا تاسې ته د محمد په درلیږلو) نو هرومرو (خامخا) به شوي وئ تاسې له زیانکارانو څخه.

تفسير: یعنې وروسته له عهد او میثاقه بیا له خپلو خبرو نه واوښتئ، که د الله تعالی فضل په تاسې باندې نه وی شوی، نو بیخي به پنا کیدئ، یعنې په همغه وخت کې به هلاکیدئ، یا دا چې سره له توبې او استغفاره او د آخر الزمان نبي صلی الله علیه وسلم له متابعته سره به مو هم هغه ګناهونه نه معافېدل.

وَلَقَدۡ عَلِمۡتُمُ ٱلَّذِينَ ٱعۡتَدَوۡاْ مِنكُمۡ فِي ٱلسَّبۡتِ فَقُلۡنَا لَهُمۡ كُونُواْ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ٦٥

او خامخا په تحقیق سره ښه پیژندلي دي تاسې هغه کسان چې تجاوز یې کړی وو له تاسې څخه (د ماهیانو په ښکار) په (ورځې د) شنبې کې نو وویل مونږ دوی ته چې: شئ ! بیزوګان ذلیلان (خوار شوي).

تفسير: بني اسرائیلو ته په (تورات) کې حکم شوی وو چې «دشنبې ورځ عبادت ته مقرره ده، په دې ورځ کې د ماهي (کب) ښکار مه کوئ !» دې خلقو په چل او فریب سره د شنبې په ورځ هم ښکار کاوه، نو الله تعالی دوی مسخ کړل، او د هغوی صورتونه یې د بیزوګانو په شان واړول، په دوی کې که څه هم انساني پوهه او شعور وو، او یوه به بل ته کتل، مګر خبرې یې نه شوې سره کولی او ژړل به یې، له درې ورځو وروسته ټول مړه شول، دا واقعه د داود علیه السلام په زمانه کې شوې ده، ددې پېښې تفصیل د (الأعراف) په سورت کې راځي.

فَجَعَلْنٰهَا نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٦٦﴾

نو وګرځاوه مونږ دا (عقوبت او مسخه) عبرت پند لپاره د هغو خلقو چې حاضر وو (ددې عقوبت په زمانه کې) او لپاره د هغو خلقو چې وروسته له دې (عقوبت څخه تر قیامته راځي) او پند لپاره د پرهېزګارانو.

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖٓ اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً ؕ

او (یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چې وویل موسی خپل قوم ته چې بېشکه الله امر کوي تاسې ته چې حلاله کړئ یو غوا (چې قاتل در معلوم شي).

تفسیر: یعنې یاد کړئ هغه وخت چې په بني اسرائیلو کې یو سړی ووژل شو، او د هغه وژونکی نه وو معلوم، او دوی هغه یو په بل باندې سره اړاوه، نو موسی علیه السلام وفرمایل: «د الله تعالی دا امر دی، چې یوه غوا حلاله کړئ او دهغې یوه ټوټه په هغه مړي ووهئ ! نو دا مړی به ژوندی شي او خپل قاتل به په خپله دروښيي»، الله تعالی په همدې ډول هغه مړی ژوندی کړ، او هغه خپل قاتل چې وارث یې وو وروښود چې د ده د مال په طمع یې وژلی وو، په نتیجه کې قاتل په قصاص ورسېد، او ورثه یې له میراثه محروم پاتې شول.

قَالُوْٓا اَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ؕ

وویل (بني اسرائیلو) آیا ګرځوې ته مونږ مسخره؟

تفسیر: یعنې له مونږ سره مسخرې کوې؟ ځکه چې د غوا په حلالولو کله قاتل معلومیږي؟ او مونږ دا نه لیدلي دي، او نه مو اوربدلي دي؛ چې د غوا د غوښې دیوې ټوټې له وهلو څخه به مړی ژوندی کیږي.

قَالَ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿٦٧﴾

وویل (موسی) پناه غواړم په الله له دې نه چې شم له ناپوهانو (مسخره کوونکو څخه).

تفسیر: یعنې ټوکې او مسخرې کول د ناپوهانو او جاهلانو کار دی، په تېره بیا دا کار په شرعي احکامو کې نشته، او له (نبي) څخه هیڅکله کیدونکی نه دی.

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ ؕ

وویل (بني اسرائیلو) چې وغواړه لپاره ځمونږ له پروردګار خپل چې بیان کړي مونږ ته چې څنګه ده هغه غوا.

تفسیر: یعنې څرنګه ده هغه غوا چې مړی پرې ژوندی کیږي، یعنې د هغې عمر څومره دی؟ او د هغې حالات څرنګه دي؟ زړه ده که وړه ده؟ او په څه ډول یې وموموئ؟

قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَّلَا بِكْرٌ ؕ عَوَانٌۢ بَيْنَ ذٰلِكَ ؕ فَافْعَلُوْا مَا تُؤْمَرُوْنَ ﴿٦٨﴾

وویل (موسی) چې: بېشکه الله وایي: بېشکه هغه یوه غوا ده؛ چې نه ډېره زړه ده، او نه ډېره وړه ده، میانه حاله ده په منځ ددغو (زوړوالي او وړوکوالي) کې، پس وکړئ هغه څه چې پرې مامور شوي یئ !.

تفسیر: یعنې هغه غوا حلاله کړئ.

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا لَوْنُهَا ۚ قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَاءُ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ النَّاظِرِينَ ﴿٦٩﴾ قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ

بيا وويل (بني اسرائيلو) چې وغواړه (اى موسى) لپاره ځمونږ له پروردګار خپل، چې بيان کړي مونږ ته چې څرنګه دى رنګ يې؟ وويل (موسى) چې بېشکه الله وايي: بېشکه هغه يوه غوا ده زېړه چې تک زيړ دى رنګ يې، چې خوشالوي (زړونه د) دليدونکو وويل (بني اسرائيلو) چې وغواړه لپاره ځمونږ له پروردګار خپل چې بيان کړي مونږ ته چې څه قسم ده دغه غوا؟ (کار کوونکې ده که صحرايي ده؟).

تفسير: يعنې په ښکاره ډول سره يې راوښيئ چې هغه غوا څه قسم ده، او د څه کار لپاره ده ؟ .

إِنَّ الْبَقَرَ تَشَابَهَ عَلَيْنَا ۖ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ لَمُهْتَدُونَ ﴿٧٠﴾

بېشکه غوا شبهه اچولې پر مونږ (ځکه زېړې غواګانې ډېرې دي) او بېشکه مونږ که اراده وکړي الله، خامخا لار موندونکي يو.

تفسير: يعنې ددغې غوا يا قاتل موندونکي يو، په حديث کې راغلي دي چې که «ان شاء الله» يې نه وى ويلي، نو هيڅېرې به يې دغه غوا نه وه موندلې.

قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُولٌ تُثِيرُ الْأَرْضَ وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ ۖ مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيهَا ۚ

ووىل (موسى) بېشکه الله وايي: بېشکه دا يوه غوا ده چې نه ربړ (تکليف) ايستونکي ده چې قلبه کوي ځمکه، او نه اوبه کوي (په ارټ سره) کښت (فصل)، ساتلى شوې ده (له کارونو، عيبونو، يا له نورو رنګونو) نشته هيڅ يو داغ په رنګ ددې کې.

تفسير: يعنې په اعضاوو کې يې هيڅ نقصان نشته، او په رنګ کې يې د بل کوم رنګ هيڅ يو داغ او خال نشته، بلکه تکه زېړه ده.

قَالُوا الْآنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ ۚ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧١﴾

ووىل (بني اسرائيلو موسى ته چې) اوس دې راوړه روښانه خبره، نو حلاله کړه دوى هغه غوا، او نه وو نږدې دوى (دې خبرې ته) چې دا کار به يې کړى وى. (دقيمت له ډېروالي يا د قاتل د پيدا کېدو له شرمه).

تفسير: دا غوا د داسې يوه نېکبخت سړي وه، چې دخپلې مور خدمت به يې زيات کاوه، خلقو هغه غوا له ده نه په دومره سرو زرو سره واخيسته، چې دهغې غوا په پوستکي کې ځائيدل، او بيا يې حلاله کړه، دوى داسې نه ګڼل چې دا غوا به په دومره ګران قيمت سره په لاس راځي، او که پوهيدلي واى نو نږدې وو چې لاس يې ترېنه اخيستى واى.

وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا ۖ وَاللَّهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٧٢﴾

او (ياد کړئ !) هغه وخت چې مړ کړ (پلرونو) ستاسې يو سړى نو په جګړه شوئ په هغه (مقتول) کې، او الله ښکاره کوونکى دى د هغه شي چې وئ تاسې چې پټاوه به مو هغه (قتل).

تفسير: يعنی ستاسې پلرونو يو سړی وژلئ وو، بيا يې د هغه وژل يو په بل اړول، او هغه شی چې تاسې پټاوه يعنې ايماني ضعف يا د وژونکي احوال؛ الله تعالی درښکاره کړ.

فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا ۚ

نو وويل مونږ چې: ووهئ دا مړي په يوې پوټې د غوا (بيا ژوندی شو هغه مقتول)

تفسير: يعنې کله چې يې د هغې غوا يوه ټوټه غوښه په هغه مړي ووهله، هغه مړی د پاک الله په حکم ژوندی شو، او وينې د هغه له پرهارونو وبهېدې، او د خپل وژونکي نوم يې وروښود چې د هماغه مقتول ورېرونه وو، او د خپل تره د مال او ميراث په تمه يې په بيديا (صحراء) کې هغه وژلی وو، وروسته له هغه چې ژوندی شو، او خپل قاتلان يې وښودل، ببر ته ولوېد او مړ شو.

كَذَٰلِكَ يُحْيِي اللَّهُ الْمَوْتَىٰ وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٧٣﴾

همداسې (لکه چې دغه مړی يې ژوندی کړ) ژوندي کوي الله مړي (په قيامت کې) او درښيي تاسې ته آيتونه د (قدرت) خپل لپاره ددې چې تاسې غور وکړئ.

تفسير: يعنې همداسې چې هغه مقتول يې ژوندی کړ، الله تعالی په خپل کامل قدرت د قيامت په ورځ کې ټول خلق هم ژوندي کوي، او دخپل کامل قدرت آيتونه تاسې ته درښيي، څو تاسې غور و کړئ او وپوهيږئ چې پاک الله مړي هم ژوندي کولی شي.

ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُمْ مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً ۚ وَإِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْأَنْهَارُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَاءُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٧٤﴾

بيا سخت شول زړونه ستاسې پس له دغه (ژوندي کولو د مړي) نو دغه (زړونه) په مثال دتيږې دي (په سختوالي کې) بلکه ډېر زيات دي په سختوالي کې، او بېشکه چې له ځينو تيږو ځنې خامخا هغه دي چې خوتيږي (بهيږي) له هغو څخه لويې لويې ويالې، او په تحقيق سره ځينې له دې تيږو څخه خامخا هغه دي؛ چې چوي نو راوځي له هغو څخه اوبه، او بېشکه ځينې له دې تيږو څخه خامخا هغه دي؛ چې رارغړي (دغره له سره) له وېرې د الله، او نه دی الله بې خبره له هغه څه چې کوئ يې تاسې (ای يهودانو !).

تفسير: يعنې له ځينو تيږو څخه ډېرې ګټې رسيږي، چې ډېرې اوبه او ويالې ور څخه وځي، او له ځينو تيږو څخه لږ اوبه وځي، او د هغه لومړني قسم په نسبت لږه فائده ور څخه اخيستل کيږي، که څه هم له ځينو تيږو څخه چاته څه فائده نه رسيږي، خو په هغو کې يو ځانته اثر او تأثر موجود وي، مګر د دوی زړونه له دې درې ډولو تيږو څخه سخت دي، نه په هغو کې فائده او نه په کې د خير کومه خبره شته، ای يهودانو ! الله تعالی ستاسې له اعمالو څخه هيڅکله بېخبره نه دی.

أَفَتَطْمَعُونَ أَنْ يُؤْمِنُوا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِنْ بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾

آيا نو تمه کوئ تاسې (ای مسلمانانو) چې ايمان به راوړي دوی (په وينا ستاسو او بېشکه چې وه

یوه ډله (دپخوانیو) له دوی چې اورېده به یې کلام د الله، بیا به یې اړوله هغه خبره وروسته له هغه چې پوه به شول په هغې؛ حال دا چې دوی به پوهېدل (په دی تحریف او افتراء).

تفسیر: له فریق څخه هغه خلق مراد دي چې د طور غره ته له موسی علیه السلام سره د الله تعالی د خبرو د اورېدلو لپاره تللي وو، هغوی د طور څخه د بېرته راتګ په وخت کې له ځانه داسې خبرې تحریف او جوړې کړې، او ویې ویل: «څه چې مو له لاسه کیږي هغه وکړئ ! او په څه چې مو وس نه رسیږي د هغه پرېښودل ستاسې په اختیار کې دي»، ځینې وایې چې: الله تعالی د کلام څخه مراد (تورات) دی، او له تحریف څخه دا مراد دی چې د هغه په آیاتو کې یې لفظي او معنوي تحریفونه کول، کله به یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نعت بدلاوه، کله به یې د رجم او نور آیتونه له منځه ایستل.

وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا ۖ وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ قَالُوا أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَاجُّوكُم بِهِ عِندَ رَبِّكُمْ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٧٦﴾

او کله چې ملاقات وکړي (یهودان) له هغو کسانو سره چې مؤمنان دي، وایي چې: ایمان راوړی دی مونږ، او کله چې یوائې شي ځینې د دوی له ځینو نورو سره نو وایي دوی: آیا خبروئ تاسې (ای یهودانو) مؤمنان په هغه شي چې پرانستلی دی الله په تاسې (په تورات کې) ددې لپاره چې جګړه وکړي له تاسې سره مؤمنان په نزد د پروردګار ستاسې، آیا نو نه پوهېږئ؟ (په دې چې دښمن ته حجت ورښیئ).

تفسیر: د یهودانو منافقانو به د خوشامند په توګه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هغه خبرې چې د دوی په مذهبي کتاب کې وې، مسلمانانو ته ویلې، نورو یهودانو به دوی ملامتول چې «د خپل کتاب سند ولې د نورو په لاسو کې ورکوئ؟ آیا تاسې نه پوهېږئ چې مسلمانان به ستاسې د پروردګار په مخ کې په همدې خبرو پر تاسې الزام اړوي؛ چې یهودان سره له دې چې ګرد سره آخر الزمان رسول الله صلی الله علیه وسلم پیژني، خو بیا هم ایمان نه راوړي، نو دلته تاسې بې ځوابه کېږئ».

أَوَلَا يَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٧﴾

آیا نه پوهیږي دغه (یهودان) چې بېشکه الله تعالی عالم دې په هغه څه (کفر او نفاق) چې پټوي یې دوی، او په هغه څه (ایمان) چې ښکاره کوي یې.

تفسیر: یعنی الله تعالی ته د دوی ټول ظاهري او باطني احوال معلوم دي، او د دوی د کتاب له ګردو حجتو څخه خبر ورکوي، او وخت په وخت هغوی پرې پوهوي، د رجم آیت اهل کتابو له مسلمانانو څخه پټ کړی وو، خو الله تعالی هغه مسلمانانو ته ورښکاره کړ، او دوی یې رسوا کړل، دا د هغوی د پوهانو او عالمانو حال وو چې له ټولو نه پوه او د کتاب د لوستلو مدعیان وو.

وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لَا يَعْلَمُونَ الْكِتَابَ إِلَّا أَمَانِيَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٧٨﴾

او ځینې له دغو (یهودانو) څخه آمیان دي، چې نه پوهیږي په کتاب (تورات) باندې مګر خو (پوهیږي) په هیلو (آرزوګانو) د خپلو نفسونو او نه دي دوی مګر خو بې دلیله ګمان کوي.

تفسیر: او هغه کسان چې جاهلان دي، هغوی خو په هیڅ نه پوهیږي چې په (تورات) کې څه شی لیکل شوي دي؟

مګر په هغو څو آرزوګانو خبر دي؛ چې له خپلو پوهانو څخه يې په دروغو اوربدلې دي، لکه چې وايي: جنت ته به يې له يهودانو بل څوک نه ورننوځي، ځمونږ پلرونه او نيکونه هرومرو (خامخا) ځمونږ لپاره مغفرت غواړي، دا د هغوی هسې بې اصله خيالات دي چې هيڅ دليل ورته نه لري.

فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَٰذَا مِنْ عِندِ اللَّهِ لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ فَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا يَكْسِبُونَ ﴿٧٩﴾

نو عذاب (هلاک او خرابي) دی لپاره د هغو کسانو چې ليکي کتاب (له خپله ځانه) په لاسو خپلو بيا وايي دغه (محرفين خلقو ته) چې دا (ليکل شوي) له طرفه د الله دي، لپاره ددې چې واخلي په دغه کتاب (اړولي) ليک قيمت لږ، نو (عذاب او) خرابي ده دوی ته له سببه د هغه شي چې ليکلي دي لاسونو د دوی او بيا خرابي ده دوی ته له سببه د هغه کار چې کوي يې (چې رشوت اخيستل دي).

تفسير: دا هغه کسان دي چې هغوي د عوامو جاهلانو په مذاق او خوښه سره سمې خبرې له خپل لوري جوړوي، ليکي يې، او الله تعالى ته يې نسبت کوي، مثلا په (تورات) کې ليکلي وو چې «آخر الزمان رسول صلى الله عليه وسلم ښکلی مخ، تکې تورې ګڼې ولول تاو شوې څنې، تورې سترګې، ميانه قد، غنم رنګ لري»، دوی دا خبرې واړولې او داسې يې وليکل چې: «قد يې اوږد، سترګې يې شنې، او څنې يې ساده، سمې او ځوړندې او زېړې دي»، چې عوام الناس د ده تصديق ونه کړي، او د هغوی په دنيوي منافعو کې څه نقصان پيدا نه شي.

وَقَالُوا لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُودَةً ۚ

او وايي دوی (يعنې يهودان) هيڅېرې به ونه رسيږي مونږ ته اور د (دوزخ) مګر څو ورځې شميرلې شوې (لږې).

تفسير: ځيني وايي: اوه ورځې، او ځيني څلويښت ورځې؛ هومره ورځې چې دوی د خوسي (سخي) په عبادت کې بوخت وو، او ځيني څلويښت کاله؛ هومره وخت چې دوی د تيه په ميدان کې سرګردان وو، ځيني وايي: هر يوه ته دومره وخت اور رسيږي، چې په دنيا کې يې ژوند کړی وي.

قُلْ أَاتَّخَذْتُمْ عِندَ اللَّهِ عَهْدًا فَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ عَهْدَهُ ۖ أَمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨٠﴾

ووايه ته (ای محمده ! دوی ته) آيا اخيستی دی تاسې په نزد د الله عهد (چې عذاب به نه درکوي؟) نو له سره مخالفت نه کوي الله له عهد خپل، يا وايئ (او جوړوئ) په الله هغه (دروغ) خبره چې نه پرې پوهېږئ (بلکه داسې نه دي لکه چې تاسې يې وايئ).

تفسير: يعنې دا خبره بيخي غلطه ده چې يهودان به تل په دوزخ کې نه پاتې کيږي، ځکه د «خلود في النار» او «دخول في الجنة» هغه کليه قاعده چې وروسته له دې څخه يې بيان فرمايي؛ له ټولو سره به سم له هغې قاعدې سره معامله کيږي، او يهودان له دغې عمومي قاعدې نشي وتلی.

بَلَىٰ مَن كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَتُهُ فَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٨١﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٨٢﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي

إِسْرَآءِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ ۖ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ ۚ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنكُمْ وَأَنتُم مُّعْرِضُونَ ﴿٨٣﴾

بلکه (رسيږي تاسې ته دائمي اور) هر چا چې کسب کړه بدي او چاپېره شوه پر ده ګناه دده (چې تر مرګه پورې کفر دی) نو همدغه کسان صاحبان د اور (د دوزخ) دي، دوی به په هغه اور (د دوزخ) کې تل وي.

او هغه کسان چې مؤمنان دي، او عملونه کړي دي دوی د نیکی؛ همدغه کسان صاحبان د جنت دي، دوی به په هغه جنت کې تل وي.

او (یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چې واخیست مونږ عهد محکم له بني اسرائیلو (اولاده د یعقوب او وویل مونږ دوی ته) چې عبادت مه کوئ ! مګر یواځې د الله او (نیکي کوئ) سره له مور او پلار نیکي ! او له خپلوانو سره، او له یتیمانو سره ! او له مسکینانو سره ! او ووایئ خلقو ته (ښې خوږې) ښایسته خبرې، او سم قائموئ لمونځ ! (ادا کوئ یې د ټولو مقرراتو له رعایت سره) او ورکوئ زکات ! بیا وګرځېدئ تاسې (له دې عهده) مګر (ونه ګرځېدل) لږ له تاسې څخه حال دا چې همدا تاسې مخ ګرځوونکي یئ (له الهي احکامو نه).

تفسیر: د ګناه احاطه کول یا له چا ځنې چار چاپېر ګناه تاوېدل دا معني لري چې: ګناه په هغه داسې غلبه وکړي چې هیڅ خوا یې داسې نه وي؛ چې ګناه هلته انبار نه وي، تر دې که یواځې د چا په زړه کې د ایمان او تصدیق لږ اثر وي، هم ګناه په هغه احاطه نه کوي، نو دا صورت یواځې په کافرانو صادق کیدی شي، او بس.

یهودو ته خطاب جاري دی؛ چې له الهي احکامو څخه اعراض او مخ اړول، ستاسې عادت بلکه په طبیعت کې داخل شوی دی.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُونَ دِمَاءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُونَ أَنفُسَكُم مِّن دِيَارِكُمْ ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿٨٤﴾

او (یاد کړئ ای بني اسرائیلو) هغه وخت چې واخیست مونږ عهد محکم له (پلرونو) ستاسې په (تورات) چې مه تویوئ وینې خپلې او مه باسئ ځانونه خپل (یعنې یو بل په ظلم سره) له کورو خپلو، بیا عهد وکړ (پلرونو) ستاسې حال دا چې تاسې شاهدان یئ (په خپلو نفسونو په دې چې عهد ترلی وو پلرونو ستاسې او همدا مو دین دی).

تفسیر: یعنی مه خپل قوم وژنئ، او مه یې له وطنه د باندې شړئ.

ثُمَّ أَنتُمْ هَٰؤُلَاءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم مِّن دِيَارِهِمْ تَظَاهَرُونَ عَلَيْهِم بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۖ

پس (له دې عهده) تاسې هغه کسان یئ چې وژنئ ځانونه خپل (یو بل سره یا وژنئ غریبان اقرباء خپل) او وباسئ تاسې یوه ډله خپله (چې مغلوبه شي) له کورونو د دوی څخه، مرسته (مدد) کوئ یو له بل سره په دوی باندې په ګناه او ظلم.

تفسير: په مدينه منوره کې د يهودانو دوه فرقې وې، يوه (بني قريظه)، دويمه (بني نضير)، دوی يو له بل سره جنګېدلې، د مشرکانو هم هلته دوه ډلې وې، يوه (اوس) دويمه (خزرج)، دې دواړو به هم په خپلو منځو کې جګړې کولې، د(بني قريظه) ملګری د (اوس) ټېر وو، او د (بني نضير) ملګری د (خزرج) ټېر وو، د جنګ جګړو په وخت کې هره يوه ډله د بلې موافقې ډلې مرستې ته ورتله، او د هغې اعانت او حمايت به يې کاوه، کله به چې يوې ډلې پر بلې ډلې نصرت او بری ومونده، نو هغه مغلوبه ډله به يې له وطنه د باندې شړله، او د هغو کورونه به يې لوټل، که کوم (کتابی، يهودي) سړی به دوی ته په دې جګړو کې په لاس ورته؛ بندي کېده به، نو د هغه ملګرو به پيسې سره ټولولې او بسپنه (فديه) به يې کوله، او هغه به يې له بنده خلاصاوه، لکه چې ددې کيفيت او چارې په نسبت په لاندنې آيت کې څه اشاره رائي.

وَإِنْ يَأْتُوكُمْ أُسَارَىٰ تُفَادُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ ۚ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ۚ

او که راشي دوی تاسې ته بنديان نو فديه ورکوئ تاسې د دوی په ځای، شان دا چې حرام کړی شوی دی پر تاسې ايستل د هغو، آيا پس (منئ او) ايمان راوړئ تاسې پر ځينو (احکامو) د کتاب (چې فديه ده) او کافران کېږئ په ځينو نورو (احکامو د کتاب چې بې ګناه وژنئ، په ګناه سره مرسته کوئ، د دوی مغلوبان له وطنه شړئ).

تفسير: يعنې که د بل ټېر او قوم په لاس کې بندي شئ، نو د هغه په خلاصولو کې په ډېره مېړانه (بهادری) ټول سره ولاړ ېږئ، او ملاوې ترئ، مګر په خپله د هغه د وينې د ځبيښلو او مری غوځولو لپاره شنه ناست يئ، نو که غواړئ چې د الله تعالی په احکامو باندې عمل او تګ وکړئ، ښايي چې په دواړو ځايو کې له هغه سره معاونت او مرحمت وکړئ، او د هغه له اعانت او حمايت څخه سر ونه غړوئ !.

فَمَا جَزَاءُ مَنْ يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنْكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰ أَشَدِّ الْعَذَابِ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٨٥﴾

پس نه ده سزا د هغه چا چې کوي دا (کارونه) له تاسې څخه مګر خو رسوايي ده، په ژوند د دنيا کې، او په ورځ د قيامت کې ګرځول کېږي دوی ډېر سخت عذاب (د دوزخ) ته او نه دی الله غافل له هغه څه چې کوئ يې تاسې (ای يهودانو !).

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿٨٦﴾

دا هغه کسان دي چې آخيستی دی دوی ژوند د دنيا په (بې انتها نعمتونو) د آخرت، سپک به نه کړی شي له دوی څخه (دنيوي او اخروي) عذاب، او نه به له دوی سره مرسته وکړی شي (په دفع د عذاب کې).

وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَقَفَّيْنَا مِنْ بَعْدِهِ بِالرُّسُلِ ۖ وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ ۗ

او خامخا، بېشکه ورکړی وو مونږ موسی ته کتاب (تورات)، او پر له پسې استولي وو مونږ پس له موسی نور رسولان (لکه يوشع، داود، سليمان، يحيی، او زکريا)، او ورکړې وې مونږ عيسی

ځوی د مریمې ته (معجزې) ښکاره او قوي کړی وو مونږ عیسی په روح پاک سره (چې جبریل یا انجیل یا عیسوي روح دی).

تفسیر: د مړي ژوندي کول، د أکمه، او أبرص او د نورو رنځورانو روغول، او دپټو خبرو ښوول، د عیسی علیه السلام له ښکاره وو معجزاتو څخه دي، له (روح القدس) څه به جبرئیل علیه السلام مراد وي، چې تل به له مسیح علیه السلام سره وو.

أَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ ٱسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴿٨٧﴾

آیا نو هر کله چې را به غی تاسې ته کوم رسول په هغو احکامو سره چې نه به خوښول نفسونو ستاسې، نو تکبر (لویي) کاوه تاسې (له منلو د هغو احکامو) نو د انبیاوو یوه ډله دروغجنه وبلله تاسې (لکه محمد، عیسی، او موسی)، او بله ډله (دانبیاوو) ووژله تاسې.

وَقَالُوا۟ قُلُوبُنَا غُلْفٌۢ ۚ بَل لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾

او وایي (تمسخراً) زړونه مو په پردو کې دي (وینا پرې اثر نه کوي، داسې نه ده) بلکه لعنت کړی دی پر دوی الله په سبب د کفر ددوی، نو ډېر لږ (له دوی څخې) ایمان راوړي.

تفسیر: یهودانو دخپلو نفسونو د ستایلو په وخت کې داسې ویل چې: ځمونږ زړونه په غلافو او کڅوړو کې ساتلی شوي دي، او پرته ځمونږ له دین څخه بل کوم دین په کې نشي ننوتلی، او نه بله کومه خبره څه اثر وربانديې اچولی شي، مونږ د بل چا په چاپلوسی، سحر بیانی، او کرشمې نه غولیږو، او نه یې تابعداري کولی شو، حق تعالی فرمایي: «دوی بیخي دروغ ویونکي دي» ځکه چې دوی دخپل کفرپه سبب الله تعالی له خوا ملعون او د ده له رحمته شړل شوي دي، نو له دې امله په هیڅ ډول د حق منونکي نه دي، او له دوی څخه ډېر لږ کسان د ایمان په دولت مشرف کیږي.

وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتَٰبٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ وَكَانُوا۟ مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُوا۟ كَفَرُوا۟ بِهِۦ ۚ فَلَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾

او هر کله چې راغی دوی ته (اهل کتابو ته) کتاب (قرآن) له طرفه د الله، چې مصدق دی د هغه کتاب چې له دوی سره دی، حال دا چې وو دوی پخوا له دې چې فتح به یې غوښته (له الله دقرآن او محمد په راتلو سره) په هغو کسانو چې کافران وو، نو کله چې راغی دوی ته هغه رسول چې پیژندلی وو دوی (هغه رسول د تورات په ستایلو سره) کافران شول پرې، نو لعنت د الله دی په کافرانو (چې حق یې پټ او باطل یې څرګند کړ).

تفسیر: هغه کتاب چې نازل شوی دی قرآن دی، او هغه کتاب چې له دوی سره پخوا له دی نه موجود وو (تورات) دی، د عظیم الشان قرآن له نزوله پخوا کله به چې یهودان د کافرانو په مقابل کې مغلوبیدل، نو دعا به یې کوله، او ویل به یې: ای الله، آخر الزمان نبي صلی الله علیه وسلم مبعوث کړه چې مونږ د هغه ملګري شو، او مشرکین مړه کړو او ..

او یا دا چې دوی به مشرکانو ته ویل: چې آخر الزمان رسول مبعوث شي، نو مونږ به د هغه ملګري او په تاسو به غالب شو، کله چې محمد صلی الله علیه وسلم مبعوث شو او د هغه د رسالت ټولې نښې یې ولیدلې، نو ترې منکر او ملعون شول.

بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ اَنْ يَّكْفُرُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بَغْيًا اَنْ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۚ

بد دی هغه څه چې پلورلی (خرڅ کړي) دي دوی په هغه سره ځانونه خپل، (او هغه دا دی) چې کافران کیږي په هغه قرآن چې نازل کړی دی الله، (دا کفر) په سب ددې حسد او کینې دی، چې (ولې) نازلوي الله له فضله خپله په هغه چا چې اراده وکړي له بندګانو خپلو.

تفسیر: یعنې هغه شی چې دوی د هغه په بدل کې خپل ځانونه خرڅوي؛ هغه د سپیڅلي پاک قرآن په مقابل کې د کفر او انکار غوره کول دي، حال دا چې د دوی دا کفر او انکار هم یواځې د دوی له ضد، کینې، او حسد نه پیدا شوی دی.

فَبَآءُوْ بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ ۭ

نو اخته شول په یوه غضب (چې کفر دی په محمد او قرآن) له پاسه د بل غضب (چې کفر دی په عیسی او انجیل).

تفسیر: یعنې غضب دا چې نه یواځې په قرآن، بلکه په خپل کتاب هم سره کافران او منکران شول، او بل غضب دا چې یواځې د حسد او ضد له امله یې د هغه وخت له رسول سره مخالفت وکړ، او ورځنې وګرځېدل.

وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝٩٠

او (مقرر) دی لپاره د کافرانو عذاب سپکوونکی.

تفسیر: له دې څخه معلومیږي چې هر عذاب د ذلت لپاره نه وي، بلکه هغه عذاب چې مسلمانانو ته ورکول کیږي، هغه د دوی د ګناهونو له امله دی؛ چې ترې پاک شي، نه د سپکتیا او تذلیل لپاره، یواځې هغه عذاب چې کفارو ته ورکول کیږي هغه د تذلیل عذاب دی.

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا نُؤْمِنُ بِمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ ۚ وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ۭ

او کله چې وویل شي دوی ته چې ایمان راوړئ په هغو (کتابونو) چې نازل کړي دي الله، وایي دوی: ایمان راوړو مونږ په هغه (کتاب) چې نازل کړی شوی دی پر مونږ (یعنې تورات) حال دا چې کافران کیږي په هغو کتابونو چې بې له هغه دي (یعنې انجیل او قرآن) حال دا چې دا (نور کتابونه هم) حق دي، تصدیق کوونکي دي د هغه کتاب چې له دوی سره دی (چې د الله تعالی له خوا نازل شوی دی).

تفسیر: هغه کتابونه چې بې له هغه دي، یعنې (انجیل) او (قرآن)، او هغه چې نازل شوی دی پر مونږ یعنی (تورات)، مطلب دا چې پرته له (تورات) څخه له نورو کتابونو په ښکاره ډول منکران دي، د(قرآن) او (انجیل) منونکي نه دي، حال دا چې دا کتابونه هم رښتیا حق او د (تورات) تصدیق کوونکي دي.

قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ اَنْۢبِيَاۗءَ اللّٰهِ مِنْ قَبْلُ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝٩١

ووایه (ای محمده ! دغو یهودانو ته) نو ولې به وژل تاسې انبیاء د الله (لکه شعیب، زکریا، او یحیی) پخوا (له دې څخه) که چېرې وئ تاسې ایمان لرونکي (په تورات).

تفسير: يعني يهودانو ته ووايه: «که تاسې په تورات ايمان لرونکي يئ، نو بيا مو ولې انبياء ووژل؟ ځکه چې په (تورات) کې داسې حکم شته: «هر هغه نبي چې د (تورات) تصديق وکړي، تاسې له هغه سره مرسته وکړئ، او خامخا وربانديې ايمان راوړئ !» او هغه انبياء مو وژلي دي؛ چې پخوا له دې څخه تېر شوي دي، لکه زکريا او يحيى عليهما السلام، چې د (تورات) په احکامو يې عمل کاوه، او د (تورات) د ترويج او تاکيد لپاره رالېږل شوي وو، په دې خبره کې هيڅ ناپوه ته کومه اند نښنه او شک نه پيدا کيږي، چې دې پيغمبرانو د (تورات) تصديق کاوه.

وَلَقَدْ جَآءَكُمْ مُّوسَىٰ بِالْبَيِّنَٰتِ ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿٩٢﴾

او خامخا په تحقيق سره راوړې وې تاسې ته موسى نښکاره (معجزې) بيا ونيوه تاسې خوسى (سخى) (په ألوهيت او معبوديت سره) پس د تللو د موسى (د طور غره ته) حال دا چې تاسې وئ ظالمان (پر ځانونو خپلو په دې معبود نيولو دخوسي).

تفسير: يعنې پخپله موسى عليه السلام چې تاسې د هغه د شريعت دعوه لرونکي ياست، ددغې دعوا له امله د نورو شرائعو او حقه وو اديانو څخه انکار کوئ، تاسو ته يې ډېرې نښکاره نښې او معجزې دروښودې، لکه همسا، يد بيضاء، د سيند څيرول او نور؛ مګر کله چې موسى عليه السلام د څو ورځو لپاره د طور غره ته لاړ، نو تاسې د هغه په غياب کې خوسى (سخى) خپل معبود وټاکه، حال دا چې موسى عليه السلام ژوندى او دنبوت خاوند وو، نو په هغه وخت کې پر موسى عليه السلام او د هغه په شريعت ستاسې ايمان چېرې وو، چې نن آخر الزمان رسول صلى الله عليه وسلم سره د بغض، او حسد له امله تاسې موسوي شريعت داسې ټينګ نيولى دى، چې د الله تعالى احکامو ته هم غوږ نه ږدئ، بېشکه چې تاسې ظالمان يئ، او ستاسې پلرونه او نيکونه هم ظالمان وو، دا وو د بني اسرائيلو احوال د موسي عليه السلام سره، وروسته له دې د (تورات) په نسبت د هغوى د ايمان حالت بيانوي.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ وَاسْمَعُوا ۖ قَالُوا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا ۖ وَأُشْرِبُوا فِى قُلُوبِهِمُ الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ ۚ قُلْ بِئْسَمَا يَأْمُرُكُم بِهِۦٓ إِيمَٰنُكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٩٣﴾

او (ياد کړئ) هغه وخت چې واخيست مونږ عهد محکم دتاسې (په منلو د تورات) او پورته کړ مونږ پاس په (سرو) د تاسې د طور (غراو حکم مو ورته وکړ چه)، واخلئ هغه (احکام) چې درکړي دي مونږ تاسې ته په ښه کوښښ، او واورئ (په تدبر سره)، وويل (يهودانو) اورېدلې ده مونږ (ستا خبره) او نه دى منلى مونږ(ستا حکم)، او ورځښلې شوې وه په زړونو ددوى کې (مينه د) خوسي (سخي) په سبب دکفر ددوى، ووايه (اى محمده ! دوى ته) بد دى هغه شى چې امر کوي تاسې ته په هغه (چې کفر دى په محمد او قرآن) ايمان ستاسې که چېرې يئ تاسې ايمان لرونکي.

تفسير: يعنى د (تورات) د احکامو په نسبت چې کوم احکام درکړى شوي دي، هغه په پوره همت او استقلال سره ټينګ ونيسئ !، ځرنګه چې غر مو په سر ځوړند وو، نو د خپل ځان له وېرې خو مو تش په ژبه يا په هغه وخت کې وويل: ﴿سَمِعْنَا﴾ يعنې د (تورات) احکام مو واورېدل، او په زړه کې يا وروسته له هغه مو ويل: ﴿وَعَصَيْنَا﴾ يعنې هغه احکام مو ونه منل.

قُلْ إِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْآخِرَةُ عِنْدَ اللَّهِ خَالِصَةً مِنْ دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٩٤﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) که چېرې وي تاسې ته دار آخرنی په نزد د الله په خلوص (او خصوص سره یواځې) ېې له (نورو) خلقو نو تمنا وکړئ د مړګ که چېرې یئ تاسې صادقان (په دعوی د خالصوالي د جنت کې خپلو ځانو ته).

تفسیر: یهودانو به ویل: «پرته له مونږ به جنت ته بل هیڅ څوک نه داخلیږي، او مونږ ته هیڅ یو تکلیف او عذاب نشته»، الله تعالی فرمایي: «که په رښتیا سره تاسې جنتیان یئ، نو له مړینې څخه ولې وېرېږئ؟».

وَلَنْ يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴿٩٥﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَى حَيَاةٍ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِ مِنَ الْعَذَابِ أَنْ يُعَمَّرَ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾

او له سره به هیله (امید) ونه کړي د مړګ هیڅکله په سبب د هغو عملونو چې وړاندې لیږلي دي لاسونو ددوی (لکه د انبیاوو او نورو قتل او تکذیب) او الله ښه عالم دی په (احوالو) دظالمانو.
او خامخا به مومې ته هرومرو دوی ډېر حرصناک دخلقو نه په ژوندانه باندې، او (ډېر حارصان) له هغو کسانو څنې (هم) چې مشرکان دي، خوښوي هر یو د هغوی (یهودانو) که عمر ورکړی شي (او اوږد شي عمر یې) زر کاله، او نه دی دا کس خلاصوونکی دده له عذابه دا چې عمر ډېر ورکړ شي، او الله ښه لیدونکی دی دهر څه چې دوی یې کوي.

تفسیر: یعنې یهودانو داسې خراب کارونه کړي دي چې له مړګه ډېر لرې تښتي، او ویرېږي چې وروسته له مړینې مونږ ته هیڅ یوه ګټه نه رسیږي، تر دې حده پورې چې له مشرکانو څخه هم دوی ډېر په ژوندي پاتې کیدلو باندې حریصان دي، په دې سره د هغوی د دعوی تغلیط په ښه ډول سره وشو.

قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَى قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَبُشْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٩٧﴾ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِلَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ فَإِنَّ اللَّهَ عَدُوٌّ لِلْكَافِرِينَ ﴿٩٨﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) هر څوک چې وي دښمن د جبریل (نو مړه دې شي له قهره) ځکه چې بېشکه هغه (جبریل) نازل کړی دی قرآن په زړه ستا په اذن (او حکم) د الله، حال دا چې تصدیق کوونکی دی (دا کتاب) د هغو کتابونو چې پخوا له ده دي، (لکه تورات، او انجیل) او لارښوونکی دی، او زېری ورکوونکی دی مؤمنانو ته (په جنت او د الله په لقاء سره).
هر څوک چې وي دښمن د الله او دملائکو دده او درسولانو د ده او(خصوصا) د جبریل او د میکائیل پس بېشکه الله دښمن دی د کافرانو.

تفسیر: یهودانو به ویل: «هغه پرښته جبریل علیه السلام چې پر(محمد صلی الله علیه وسلم) باندې وحي راوړي له مونږ سره دښمني لري، او ځمونږ پلرونو ته دده له لاسه لوی تکلیفونه پېښ شوي دي، که پرته له جبرئیل علیه السلام بلې کومې پرښتې دوی ته وحي راوړي وی، نو مونږ به په (محمد صلی الله علیه وسلم) ایمان راوړی وای»، نو د دوی ددې

وينا په نسبت الله تعالى داسې فرمايي: «کردې پرښتې همغه شيان کوي چې د پاک الله له لوري دوی پرې مامورې شوي وي، او له خپله ځانه هيڅ شی نه شي کولی، نو هغه کسان چې له دوی سره دښمني کوي، بېشکه چې الله تعالى د هغوی دښمن دی».

وَلَقَدْ أَنْزَلْنَآ إِلَيْكَ آيَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ ۖ وَمَا يَكْفُرُ بِهَآ إِلَّا ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٩٩﴾ أَوَكُلَّمَا عَٰهَدُوا۟ عَهْدًا نَّبَذَهُۥ فَرِيقٌ مِّنْهُم ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠٠﴾

او خامخا په تحقيق نازل کړي دي مونږ تاته آيتونه روښانه، او نه کافران کيږي په دې باندې مګر فاسقان (چې د الله له فرمانه وتونکي دي).
آيا هر کله چې کولو به دوی يو عهد؛ نو غورځاوه (هيراوه او ماتولو به) دا عهد يوې ډلې له دوی څخه، بلکه اکثره د دوی ايمان نه راوړي.

تفسير: يعنې دا د هغوی پخوانی عادت دی؛ کله چې دوی له الله تعالى يا رسول الله صلى الله عليه وسلم يا له بل چا سره عهد او پيمان وترې، نو بيا يوه ډله له دوی څخه له هغه عهد نه سترګې پټوي، او تر شا يې غورځوي، بلکه ډېر داسې يهودان هم شته چې په (تورات) باندې يې هم لا ايمان نه دی راوړی، نو داسې کسانو ته عهد ماتول او په خپلو خبرو باندې نه درېدل کومه سخته خبره نه ده.

وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيقٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ كَأَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾

او هر کله چې راغی دوی ته رسول (محمد) له طرفه د الله چې تصديق کوونکی دی د هغه کتاب (تورات) چې له دوی سره دی؛ نو وغورځاوه يوې ډلې له هغو کسانو چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب؛ کتاب د الله لره وروسته د شاوو د دوی (او هيڅ عمل يې پرې ونه کړ) لکه چې دوی نه پوهيږي (چې دغه کتاب او رسول له جانبه د الله راغلي دي، يا په هغه کې څه صفت دی د محمد).

تفسير: له «رسول» څخه محمد صلى الله عليه وسلم مراد دی، او له «ما معهم» څنې مطلب (تورات) او له (کتاب الله) نه مقصد همدا (تورات) دی، يعنې کله چې رسول الله صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم تشريف راوړ، نو دوی د (تورات) او نورو آسماني کتابونو تصديق کوونکی وو، نو د يهودانو يوې ډلې په پخپله (تورات) خپلو شاوو ته داسې وغورځاوه لکه چې بيخي يې نه وي ليدلی، او هيڅ ورنه خبر نه وي؛ چې آيا هغه هم کوم کتاب دی که نه؟ او څه اوامر او نواهي هم پکې شته که نه؟ کله چې دوی په خپل کتاب عقيده او ايمان نه لري، نو له هغوی څنې د نورو الهي احکامو په نسبت څه اميد کول پکار دي؟.

وَٱتَّبَعُوا۟ مَا تَتْلُوا۟ ٱلشَّيَٰطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَٰنَ ۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُوا۟ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحْرَ ۗ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَ ۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۖ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ ۚ وَلَقَدْ

عَلِمُوا لَمَنِ اشْتَرٰىهُ مَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ۚ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ ۭ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٠٢﴾ وَلَوْ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَمَثُوْبَةٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ خَيْرٌ ۭ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٠٣﴾

او متابعت وکړ یهودانو د هغه څه چې لوست به شیطانانو په (زمانه د) باچاهۍ دسلیمان کې، او نه وو کافر شوی سلیمان، ولیکن شیطانان کافران شوي وو، حال دا چې ښوده به یې خلقو ته سحر او (متابعت به یې کاوه) د هغه شي چې نازل کړی شوی وو په دوو پرښتو په (ښار د) بابل کې (چې نوم د یوې) هاروت او (دبلې) ماروت (دی)؛ او نه به کوله ښودنه دوی دواړو هیڅا ته تر هغه پورې چې وبه ویل دواړو: بېشکه همدا خبره ده چې مونږ ازمینښت یو (له جانبه د الله) نو مه کافر کیږه (په زده کولو د سحر) نو زده کاوه به هغوی له دوی دواړو نه هغه شی چې بیلتون به یې کاوه په هغه سره په منځ د مېړه (خاوند) او ښځې د هغه کې؛ او نه وو دوی ضرر رسوونکي په دغه سحر سره هیڅا ته مګر په اذن (حکم) د الله سره؛ او زده کوي دوی (یعنې یهودان) هغه څه چې ضرر رسوي دوی ته او نفع نه رسوي دوی ته، او خامخا په تحقیق پوهېدل دوی چې خامخا هغه څوک چې اخلي (زده کوي) سحر؛ نشته ده لره په آخرت کي هیڅ برخه (دنیکی)؛ او خامخا ډیر بد دی هغه شی چې خرڅ کړی دی دوی په هغه شي سره (حصه د) ځانو خپلو که چېرې وای دوی چې پوهېدلی (په بد انجام د سحر نو نه به یې زده کاوه)، او که په تحقیق دوی ایمان راوړی وای، او پرهیز یې کړی وای (له سحر او له یهودیته) نو خامخا ثواب له طرفه د الله څخه ډېر غوره دی (له دې سحر او رشوت د تورات په تحریف)؛ که وای دوی چې پوهېدلی (په بهترۍ د «تورات» نو سحر به یې نه زده کاوه، او له پاک الله ځنې به وېرېدل، او له مناهیو به لرې ګرځېدل).

تفسیر: لنډه یې دا چې یهودانو دین او کتاب پرښود، او د سحر، جادو، او کوډو تابع شول، او جادو له دوو خواوو په خلقو کې خور شو:

(١) : د سلیمان علیه السلام په زمانه کې په دې سبب چې پیریانو او انسانانو ناسته او ولاړه سره درلوده، نو بنیادمانو له شیطانانو ځنې کوډې زده کولې، او دا به یې سلیمان علیه السلام ته منسوبولې؛ چې دا کوډې مونږ ته له ده ځنې رارسېدلې دي، او ده دهمدې کوډو په زور پر خلقو حکمونه چلول، نو ځکه الله تعالی فرمایي چې: «دا کار کفر دی، او د سلیمان نه دی».

(٢) (هاروت) او (ماروت) دوه پرښتې چې (بابل) په ښار کې د بنیادمانو په صورت اوسېدلې، او دوی ته د سحر او جادو علم ښه معلوم وو، د سحر هر طالب به چې دوی ته ورته، نو دوی به هغه ته نصیحت کاوه چې «سحر مه زده کوه ! چې د سحر له امله سړی کافر او ایمان ته یې زوال وررسېږي»، که سره له دغه نصیحته به دا د سحر طالب د سحر له زده کولو څخه لاس نه آخیست، نو یې ورښود، پاک الله د (هاروت او ماروت) په ذریعه د خپلو بندګانو آزموینه کوله، نو ځکه فرمایي چې: «له هسې علومو ځنې آخرت ته هیڅ یوه فائده نه رسېږي، بلکه ډېر نقصان رسوونکي دي، او په دنیا او آخرت کې پرته له نقصانه بل څه فائده په لاس نه ترې راځي، او بې د الله تعالی له حکم او ارادې هیڅ اثر نه پرې مرتبېږي، که دوی د دین علم او د کتاب علم زده کاوه، نو د دواړو دارینو اجر او ثواب به یې په برخه کېده، کله چې د هغو او کتاب یې پرښود. ﴿خَيْرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ﴾ شول.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا وَقُوْلُوا انْظُرْنَا وَاسْمَعُوْا ۭ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٠٤﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو) مه وایئ تاسې (لفظ د) «راعنا» (رسول

الله ته) او ووايئ (په ځای د «راعنا» لفظ د) «انظرنا»، او واورئ تاسې (حق د زړه په غوږو)، او شته دی لپاره د کافرانو عذاب دردناک (د دوزخ).

تفسير: يهودان به چې کله رسول الله مبارک په مجلس کې کښاستل او د دوی خبرې به يې اورېدلې، په ځينو خبرو به چې ښه نه پوهېدل، يا به يې نه اورېدلې؛ د هغو تحقيق به يې بيا په تکرار سره کاوه، او ويل به يې: ﴿رَاعِنَا﴾، يعنې ځمونږ په لوړې توجه وفرمايئ ! او رعايت مو وکړئ ! ددې کلمې د اورېدلو په اثر به کله کله مسلمانانو هم داسې ويل، نو پاک الله منع کوي چې داسې مه وايئ، او که وايئ هم نو ﴿انْظُرْنَا﴾ ووايئ، چې د هغه معنی هم همغه ده، او د خبرو د شروع ځخه پوره متوجه اوسئ ! چې بيا پوښتنې ته محتاج نه شئ ! يهودانو دا خبره د فريب او بد نيتی له امله ويله، او دا کلمه به يې په داسې ژوولې ژبه ادا کوله چې «راعينا» تورې به هم ترې وخوت، چې معنی يې آی ځمونږ شپونه ! ده، برسېره په دې د يهودانو په نزد ﴿رَاعِنَا﴾ احمق او ناپوه معنی هم ورکوي.

مَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ خَيْرٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝١٠٥

نه خوښوي (دوست نه ګڼي) هغه کسان چې کافران شوي دي له اهل کتابو ځخه او (نه) له مشرکانو ځخه دا (خبره) چې نازل کړي شي په تاسې کومه ښه خبره (لکه وحي، نصرت) له ربه ستاسې (دکينې له مخې)، أو الله خاصوي په رحمت خپل سره هغه څوک چې اراده (يې) وکړي (دتخصيص په رحمت سره)، او الله خاوند د فضل ډېر لوی دی.

تفسير: يعنې کفار که يهودان دي، که د مکې مشرکان؛ په دې نه دي خوشحال چې پاک قرآن په تاسې باندې نازل شوی دی، بلکه يهودانو داسې غوښتل او هيله يې درلوده، چې وروستی نبي صلی الله عليه وسلم په (بني اسرائيلو) کې مبعوث شي، او د مکې د مشرکانو خوښه دا وه، چې د دوی له ټبره دې وي، مګر دا خو د الله تعالی لوی فضل او مرحمت دی؛ چې وروستی نبي صلی الله عليه وسلم يې ستاسې د اميانو په ټبر کې پيدا کړ.

مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ اَوْ مِثْلِهَا ؕ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝١٠٦

هغه چې منسوخ کوو مونږ له کوم آيته يا هېروو يې (له زړونو) د مؤمنانو ځخه؛ نو رالېږو بهتر له هغه (پخواني ځخه په سهولت او کثرت د اجر کې) يا په مثل د هغه (په تکليف او ثواب کې)، آيا نه پوهېږې ته چې بېشکه الله په هر څه ښه قادر دی(نو رالېږي بهتر له منسوخه يا د هغه په مثل)؟.

تفسير: دا هم د يهودانو پيغور دی، کله چې ستاسې په کتاب کې ځينې آيتونه منسوخ کيږي؛ نو وايي: «که دا کتاب په رښتيا د پاک الله له لوري وي، نو کله چې الله تعالی دهغې نسخې له سببه چې مونږ او تاسې اوس پرې خبريږو ؛ لا له پخوا ځخه خبر وو؛ نو ولې به يې يو داسې آيت لېږه؟» نو الله تعالی فرمايي چې: نه په لومړنی خبره کې څه عيب وو، او نه په وروستی خبره کې کوم عيب شته، خو ﴿اَحْكَمُ الْحٰكِمِيْنَ﴾ د وخت په تناسب او ل هغه حکم مناسب و ګڼه، او بيا يې دغه حکم لازم وباله (وګڼه).

اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۝١٠٧

آيا نه پوهيږې ته چې بېشکه الله (چې دی) همده لره دی سلطنت (او پاچاهي) د آسمانونو او دځمکې (سره له آسمانونو او ځمکې و ما فيهما ملکا، خلقا، وعبيدا)، او نشته تاسې ته غير له الله نه هيڅ دوست؛ (چې ومو ساتي له بلياتو) او نه مددګار (چې له نازله عذاب مو خلاص کړي).

تفسير: يعني دلته خو د الله تعالى قدرت او ملكيت په ګردو باندې شامل دى، او هلته په خپلو بندګانو اعلى درجه عنايت او مرحمت لري، نو اوس دبندګانو په منافعو او مصالحو باندې غير دده له ذاته بل څوک پوهېدى شي؟ او څوک دده په اندازه بندګانو ته منافع او ښېګڼې رسولى شي؟.

أَمْ تُرِيدُونَ أَن تَسْـَٔلُوا۟ رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ۗ وَمَن يَتَبَدَّلِ ٱلْكُفْرَ بِٱلْإِيمَٰنِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿١٠٨﴾

آيا اراده لرئ تاسې چې سوال و کړئ له رسول خپله (محمد ځنې) لکه چې سوال کړى شوى وو له موسى څخه پخوا له دې (راز راز نا مناسبو طريقو)، او هر څوک چې بدلوي (او غوره کوي) کفر په ايمان (چې ايمان ورکوي او کفر اخلي)؛ نو په تحقيق ورکه يې کړه سمه لاره (او له حقې لارې څخه چپ او بې لارې شو).

تفسير: يعني د يهودو په شان بې ضرورته او د سرکشۍ پوښتنې مه کوئ، ځکه داسې پوښتنې د کفر او ګمراهۍ لار ده.

وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّنۢ بَعْدِ إِيمَٰنِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلْحَقُّ ۖ فَٱعْفُوا۟ وَٱصْفَحُوا۟ حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦٓ ۗ

خوښوي (او دوست ګڼي) ډېر د اهل کتابو څخه (دا) چې وګرځوي دوى تاسې پس له ايمان راوړلو ستاسې کافران؛ دحسد (له سببه)، چې (له خبيثو) نفسونو د دوى (پيدا شوى) دى، وروسته له هغه چې ښکاره شو دوى ته حق (چې رسول، قرآن، او داسلام دين دى)، نو عفوه وکړئ ! (دوى ته) او مخ ترې وګرځوئ ! (او جزا مه ورکوئ !) تر هغه پورې چې راولېږي الله امر خپل (په جهاد ددوى يا په جزيه اخيستلو له دوى نه).

تفسير: يعني تر هغه پورې تاسو دهغوى په خبرو صبر او تحمل وکړئ ! چې ځمونږ له لورې تاسو ته کوم حکم راشي؛ لکه چې په پاى (آخر) کې محمد صلى الله عليه وسلم ته داسې حکم راغى چې ټول يهودان دمدينې منورې له چار چاپېره ځنې وشړئ !.

إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٠٩﴾

بېشکه چې الله په هر شي ښه قادر دى (نو هرومرو له دوى نه انتقام اخلي).

تفسير: يعني له خپل ضعف له امله اندېښنه او تردد مه کوئ !، ځکه چې پاک الله په خپل قدرت سره تاسې غالب او عزيز، او يهودان مغلوب او ذليل کوي، يا دا چې ډيل او تعطيل د عجز له امله نه دى.

وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ۚ وَمَا تُقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١٠﴾

او سم دروئ (ادا کوئ له ټولو حقوقو سره) لمونځ، او ورکوئ زکات، او هغه شى چې مخکې لېږئ لپاره د ځانو خپلو له نيکى (لکه صله رحمي، او صدقه) وبه مومئ (ثواب د) هغه په نزد د الله، بېشکه الله په هغه شي چې کوئ يې تاسې ښه ليدونکى دى (نو نه ضايع کيږي اعمال ستاسې، او جزا يې درکوي).

تفسير: يعني د هغوی په ضرر او ایذاء باندې صبر وکړئ، او په عباداتو کې بوخت (مشغول) او لګیا اوسئ !، ځکه چې الله تعالی ستاسې له کارونو څخه هیڅکله غافل او بېخبر نه دی، ستاسې هیڅ یو ښه کار نشي ضایع کیدی.

وَقَالُوا لَن يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ ۗ

او وایي: (اهل کتاب) له سره به نه ننوځي جنت ته مګر هغه څوک (به ننوځي) چې وي یهودي یا نصراني؛

تفسير: يعني يهودان خو وايي چې: «پرته له مونږ بل هیڅوک جنت ته نشي ننوتلی»، او نصرانیان وایي چې: «پرته له مونږ بل هیڅوک جنت ته نشي ننوتلی».

تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ ۗ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿١١١﴾ بَلَىٰ مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُ أَجْرُهُ عِندَ رَبِّهِ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١١٢﴾

دا نفساني غوښتنې د دوی دي، ووایه (ای محمده ! دوی ته) راوړئ دلیل خپل (پر دې خبره) که چېرې یئ صادقان (په دې وینا کې، نه ده داسې) بلکه هر څوک چې وسپاري ځان خپل الله ته حال دا چې دی نیکوکار وي، نو دی ده لره اجر دده په نزد د رب دده، او نه به وي هیڅ (قسم) وېره په دوی باندې، او نه به دوی (هیڅېرې) خپه کیږي (دجزا په وخت کې).

تفسير: يعني چا چې د الله تعالی احکام ومنل، او د هغو متابعت یې وکړ، که څه هم دا احکام د هر نبي له لوري ورته رسیدلي وي، او په خپل قومیت او اصولو باندې یې د یهودانو په شان تعصب ئې ونکړ، نو هغوی لره ښه اجر دی، او نه په هغوی کې داسې کومه خبره شته چې د هغې له امله به دوی په وېره کې وي، او نه به دوی غمجن وي.

وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصَارَىٰ عَلَىٰ شَيْءٍ وَقَالَتِ النَّصَارَىٰ لَيْسَتِ الْيَهُودُ عَلَىٰ شَيْءٍ وَهُمْ يَتْلُونَ الْكِتَابَ ۗ

او وایي یهودان چې: نه دي نصرانیان په هیڅ شي (له حق دین څخه) او وایي نصرانیان چې: نه دي یهودان په هیڅ شي (له حق دین څخه) حال دا چې دغه (یهودان او نصرانیان) لولي دوی کتاب (دالله).

تفسير: يعني كله چې يهودانو (تورات) لوستلو؛ نو پوهه شول چې نصرانیان عیسی علیه السلام د الله جل جلاله ځوی بولي، او په دې مسئله ښه پوه شول چې دوی بېشکه کافران دي، او نصرانیان د (انجیل) له لوستلو ځنې په دې ښه وپوهېدل، چې یهودان د عیسی علیه السلام د نبوت د نه منلو له امله کافران شول.

كَذَٰلِكَ قَالَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ فَاللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١١٣﴾

همدارنګه ویل هغو کسانو چې نه پوهېدل (لکه مجوسیان او مشرکان) په شان د ویلو ددغو (کتابیانو) نو الله به حکم وکړي په منځ ددوی کې په ورځ د قیامت په هغه شي کې چې وو دوی چې په هغه کې به یې اختلاف (او جګړې) کولې.

تفسير: له دې جاهلانو څخه د عربو مشرکین او بت پرستان مراد دي، يعني همغسې چې يهود او نصاری يو بل کافر او

ګمراه ګڼي؛ همداسې بت پرستان هم پرته له خپلو ځانو نور ټول ګمراهان او بې دينان بولي، نو دوی دې په دنيا کې هسې خبرې کوي، په قيامت کې به د هغو په نسبت فيصله وشي.

فايده: دلته داسې يوه شبهه پيدا کيږي، کله چې يې ﴿كَذَٰلِكَ﴾ وفرمايل، نو بيا د ﴿مِثْلَ قَوْلِهِمْ﴾ فرمايلو ته څه حاجت وو؟ ځينې مفسران هسې ځواب وايي چې: ﴿مِثْلَ قَوْلِهِمْ﴾ د ﴿كَذَٰلِكَ﴾ توضيح او تاکيد دی، او ځينې وايي چې دلته جدا جدا دوه تشبيه ګڼي دي؛ نو ځکه يې دوه لفظونه وفرمايل، له يوې تشبيه څخه دا غرض دی چې د دوی او د دوی د وينا په منځ کې مشابهت سره شته، يعنې څرنګه چې دوی نورو ته ګمراه وايي، دوی پخپله هم ګمراهان دي، او له بلې تشبيه ځنې دا غرض دی: لکه چې کتابيانو دا بې دليله دعوی د خپلو نفساني اغراضو او عداوتونو له امله کوله، همداسې بت پرستان هم بې دليله يوائې د نفساني غوښتنو له امله داسې دعوی کوي.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا ٱسْمُهُۥ وَسَعَىٰ فِى خَرَابِهَآ ۚ

او څوک دی لوی ظالم (بلکه نشته) له هغه چا څخه چې بندوي مسجدونه د الله له دې چې ياد کړی شي په هغو کې نوم د الله، او کوښښ کوي په ورانولو (او شاړولو) د هغو کې.

تفسير: که څه هم ددې آيت د نزول سبب نصاری دي؛ چې دوی له يهودانو سره مقاتله وکړه (تورات) يې وسوځاوه، او بيت المقدس يې خراب کړ، يا د مکې مشرکان دي، چې هغوی د بغض، عناد، او تعصب له کبله مسلمانان په (حديبيه) کې ستانه کړل، او د بيت الله له زيارت نه يې محروم وګرځول، مګر هغه کسان چې هر کوم مسجد ورانوي، نو هغوی هم په دې حکم کې داخل دي.

أُو۟لَٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَن يَدْخُلُوهَآ إِلَّا خَآئِفِينَ ۚ

دغه کسان نه دي لايق دوی ته؛ دا چې ننوځي دغو مسجدونو ته مګر وېرېدونکي (له مؤمنانو څخه).

تفسير: يعنې له دې کفارو سره خو لايق داسې وو چې د الله تعالی مساجدو ته سره له وېرې او تواضع، ادب، او تعظيم ورننوتلی، نو دا خو ښکاره ظلم دی؛ چې کفارو هلته بې حرمتي وکړه، يا يې مطلب دا دی: چې په عزت او حکومت دوی په دې ملک کې د اوسېدلو وړ نه دي، لکه چې همداسې هم وشول؛ چې د الله تعالی له لوري مکه معظمه او (شام) مسلمانانو ته ورکړل شول.

لَهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا خِزْىٌ وَلَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١٤﴾

دوی ته په دنيا کې ذلت دی، او (شته) دوی ته په آخرت کې عذاب ډېر لوی (په سبب د کفر او ظلم د دوی).

تفسير: يعنې په دنيا کې مغلوب شول، او په قيد کې و لوېدل، او مسلمانانو ته به يې جزيه ورکوله.

وَلِلَّهِ ٱلْمَشْرِقُ وَٱلْمَغْرِبُ ۚ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا۟ فَثَمَّ وَجْهُ ٱللَّهِ ۚ

او خاص الله لره دی مشرق او مغرب، نو هر لوري ته چې مخ وګرځوئ (په لمانځه کې) نو همدغه لوري ته د الله مخ يا قبله ده.

تفسير: ځينې وايي چې: «په سفر کې په سورلو باندې د نوافلو د ادا کولو په نسبت، يا کله چې په سفر کې قبله مشتبه شوې وه؛ دا آيت نازل شوی وو».

إِنَّ اللَّهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾

بېشكه چې الله پراخ دی (رحمت د ده) ښه عالم دی.

تفسير: يعنې د هغه رحمت هر چېرې عام دی، تر يوه ځای پورې څه اختصاص نه لري، د دوی له نيتونو، مصالحو، او اعمالو ځنې په ښه ډول خبر دی، او ښه پوهيږي چې د بندګانو په حق کې کوم شی مفيد او کوم شی مضر دی؟ او سم له هغو سره حکم صادروي، هر څوک چې سم له هغه سره عمل کوي هغه ته ښه جزاء او هر څوک چې له هغه ځنې مخالف تګ کوي هغه ته بده سزا ورکوي.

وَقَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ بَل لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ كُلٌّ لَّهُ قَانِتُونَ ﴿١١٦﴾ بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿١١٧﴾

او وايي (کفار: يهودان او نصرانيان داسې چې) نيولی دی الله ځوی، پاکي ده ده لره (له ځوی ځخه)؛ بلکه دی ده لره هر هغه شيان چې په آسمانونو او ځمکه کې دي (سره له آسمانونو او ځمکی: ملکاً، خلقاً، وعبيداً)؛ ټول ده لره حکم منونکي (او مغلوب) دي.
نوی (بې له نمونې) پيدا کوونکی د آسمانونو او دځمکې دی؛ او هر کله چې اراده وکړي د يوه کار نو بېشکه همدغه خبره ده چې وايي هغه کار ته چې وشه ! نو هغه وشي.

تفسير: يهودانو عزير عليه السلام ته او نصرانيانو عيسى عليه السلام ته د الله تعالى ځوی و يل، الله تعالى فرمايي چې: د ده ذات له ټولو هسې خبرو ځنې پاک او منزه دی، بلکه ټول موجودات بيخي د ده مملوک، مخلوق، او مطيع دي.

وَقَالَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ لَوْلَا يُكَلِّمُنَا اللَّهُ أَوْ تَأْتِينَا آيَةٌ

او وايي هغه کسان چې دوی نه پوهيږي (يا ځان نه پوهوي) ولې خبرې نه کوي له مونږ سره الله (پخپله) يا ولې نه راځي مونږ ته يوه نښه (دقدرت (معجزه) په صدق ستا).

تفسير: يعنې هغه جاهلان يا متجاهلان چې په کتابيانو او بت پرستانو کې دي؛ هغوی ټول سره وايي چې الله تعالى ولې بې وسيلې له مونږ سره خبرې نه کوي؟ يا کومه يوه داسې نښه نه راښيي چې مونږ د هغې له اورېدلو يا ليدلو ځنې ستا د رسالت تصديق وکړو.

كَذَٰلِكَ قَالَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِم مِّثْلَ قَوْلِهِمْ تَشَابَهَتْ قُلُوبُهُمْ قَدْ بَيَّنَّا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿١١٨﴾

همدارنګه به ويل هغو کسانو (چې وو) پخوا له دوی ځنې په شان د خبرې د دوی؛ يو رنګ شوي دي زړونه ددوی؛ په تحقيق سره بيانې کړي دي مونږ معجزې (نښې دتوحيد او نبوت) هغو خلقو ته چې دوی يقين کوي (او هيڅ شبهه او عناد په کې نشته).

تفسير: الله تعالى فرمايي چې: «پخوانيو خلقو هم داسې د جهالت خبرې کولې» ، دا کومې نوې خبرې نه دي، او هغو کسانو ته چې يقين او باور کوونکي دي مونږ د بر حقه نبي نښې بيان فرمايلې دي، او هغه کسان چې په خپل ضد او عداوت باندې ټينګ ولاړ دي، او انکار کوي؛ نو دا يواځې حسد او عناد دی.

إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ۙ وَلَا تُسْـَٔلُ عَنْ أَصْحَٰبِ ٱلْجَحِيمِ ﴿١١٩﴾

بېشکه مونږ لیږلی یې ته (ای محمده !) په حقه سره زېری ورکوونکی (په نعیم) او وېروونکی (له جحیم)، او ته به ونه پوښتل شې له صاحبانو د دوزخ څخه.

تفسیر: یعنې پر تاسې باندې ددې خبرې هیڅ الزام نشته؛ چې هغوی مو ولې په اسلام نه دي مشرف کړي.

وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ ٱلْيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ۗ

او هیڅ کله به راضي نه شي له تا نه (ای محمده !) یهودان او نه نصرانیان؛ تر هغې پورې چې متابعت وکړې ته د دین د دوی؛

تفسیر: یعنې یهودان او نصرانیان دحق له منلو سره هیڅ علاقه او کار نه لري، دوی په خپل ضد باندې کلک ولاړ دي، او له سره ستاسې دین نه مني، که بالفرض تاسې د هغوی تابع شئ نو خوښېږي، او دا ممکنه او کیدونکي خبره نه ده، نو اوس دې د هغوی د موافقت امید ونه کړی شي.

قُلْ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلْهُدَىٰ ۗ

ووایه (ای محمده ! دوی ته چې) بېشکه هدایت د الله (اسلام) هم دغه هدایت دی (او بس).

تفسیر: یعنې په هره زمانه کې همغه دین معتبر او هدایت وو چې د هغه وخت نبي به د هغه هدایت کاوه، او اوس هغه دین؛ د اسلام پاکه طریقه ده، نه دیهودانو او نصرانیانو دود (رواج) او دستور.

وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم بَعْدَ ٱلَّذِى جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١٢٠﴾

او قسم دی که چېرې پیروي وکړې ته دخواهشاتو د دوی وروسته له هغه چې راغلی دی تا ته له علمه نو نه به وي تا لره له (عذابه د) الله هیڅ دوست (ساتونکی له بلیاتو) او مددګار (خلاصوونکی له نازله وو عذابونو).

تفسیر: دا یوه فرضي خبره ده، یعنې که بالفرض تاسې داسی وکړئ؛ نو له الهي قهره هیڅوک خپل ځان نه شي ژغورلی (بچ کولی) یا یې منظور د امت تنبیه ده؛ چې که کوم سړی مسلمان شي، او په قرآني احکامو پوهیږي، او بیا له اسلامه مخ واړوي، نو هیڅوک دې له عذابه نشي ژغورلی(ساتلی).

ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يَتْلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ۗ وَمَن يَكْفُرْ بِهِۦ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿١٢١﴾

هغه کسان چې ورکړی دی مونږ دوی ته کتاب لولي (دغه د اهل کتاب مؤمنان) دا کتاب په حق لوستلو د هغه سره؛ هم دغه کسان ایمان راوړي په دغه (کتاب پرته له محرفینو)؛ او هغه څوک چې کافر شي په ده نو دغه کسان هم دوی دي زیانکاران (چې ایمان په کفر بدلوي).

تفسیر: په یهودانو کې لږ کسان منصفان هم وو چې خپل کتابونه یې داسې لوستلي او پرې پوهیدلي وو؛ چې په الفاظو کې یې تحریف نه کاوه، په معنی د هغه کې یې فکر چلاوه، او په مقتضی یې عمل کاوه، او په پاک قرآن یې ایمان راوړی وو، لکه (عبد الله بن سلام رضي الله عنه)، او د هغه ملګری، یعنې دوی (تورات) په غور سره لوست، او هم دوی ته ایمان په برخه شو، او هغه کسان چې له خپل کتاب څخه یې انکار وکړ، او په هغو کې ئې ګوتې ووهلې، او سره واېې راوه، او تحریف یې وکړ، نو دوی زیانکاران، خائنان، او خاسران شول.

يٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٢٢﴾ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا
تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا تَنفَعُهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴿١٢٣﴾

ای بني اسرائيلو (اولاده د يعقوبه !) ياد کړئ نعمت زما هغه چې انعام کړی دی ما پر تاسې، (او بل دا ياد کړئ چې) بېشکه ما غوره کړي يئ تاسې (يعنې نيکونه ستاسې) پر خلقو (د زمانې ستاسې). او ووېرېږئ له (عذابه د) هغې ورځې چې لرې کولی به نشي هيڅ نفس له هيڅ (کافر) نفس څخه هيڅ شی (له عذابه)، او نه به شي قبلولی له دغه نفس څخه بدل (فديه) او نه به نفع رسوي ده ته شفاعت (سپارښت د هيچا)، او نه به له دوی سره مدد وکړی شي (په دفع د عذاب کې).

تفسير: د هغو خبرو يادونه چې په شروع کې بني اسرائيلو ته شوې وه، اوس بيا د هغو ټولو حالاتو د يادولو ځنې وروسته بيا هم د همغو يادونه د تاکيد او تنبيه او وينبولو له امله کړی شوې ده، چې ښه يې په زړه شي او د هدايت په لوري راواوړي، او لا ښه څرګنده شي چې له دې قيصې څخه اصلي مقصد همدا دی.

وَإِذِ ٱبۡتَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٖ فَأَتَمَّهُنَّۖ

او (ياد کړه ای محمده !) هغه وخت چې وازمايه ابراهيم لره پرودګار د ده په څو خبرو؛ نو ده پوره کړې هغه (خبرې).

تفسير: لکه اوامر - نواهي - او سنن - د حج افعال- ختنه - سر بېلول (د سر لاړ ايستل) مسواک او نور چې ابراهيم عليه السلام د الله تعالى د احکامو سره سم هغه ټول په ډېر اخلاص سره په ځای راوړي دي، او ټول يې په ډېر ښه ډول سره ادا او انتها ته رسولي دي، او له همدې امله د خلقو امام او پيشوا ګرځول شوی دی.

قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامٗاۖ

وويل (الله) چې بېشکه زه ګرځوونکی يم تا لره لپاره د خلقو مقتدا (په دين کې).

تفسير: يعنې ټول (راتلونکي) انبياء به ستاسې په متابعت باندې تګ وکړي.

قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِيۖ قَالَ لَا يَنَالُ عَهۡدِي ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٢٤﴾

وويل (ابراهيم) او له اولادې مې هم (مقتديان وګرځوه)، نو وفرمايل (الله) نه رسيږي عهد زما کافرانو ته.

تفسير: (بني اسرائيل) په دې ډېر مغرور وو؛ چې مونږ د ابراهيم عليه السلام اولاد يو، او الله تعالى له (ابراهيم عليه السلام) سره وعده فرمايلې ده؛ چې نبوت او مشري به ستا په اولاده او نسل کې پاتې وي، او مونږ د (ابراهيم عليه السلام) په دين باندې يو، او ګرد دهغه دين منو، اوس پاک الله دوی پوهوي، چې د الله تعالى هغه وعده له هغو کسانو سره وه، چې د نيکۍ پر لار يې تګ کاوه.

(ابراهيم عليه السلام) دوه ځامن درلودل (لرلو)، تر يوې مودې پورې د (اسحاق عليه السلام) په اولاده کې مشري او نبوت وو، اوس د (اسماعيل عليه السلام) خيلخانې او اولادې ته رسېدلي دي، ځکه چې ده د خپلو دواړو ځامنو په نسبت دعا کړېده، او فرمايلي يې دي چې: داسلام دين تل يو دی، ښايي چې ټول رسولان او امتيان په همغې يوې لارې لاړ شي، او هغه دا ده: کوم حکم چې پاک الله د رسولانو په وسيله رالېږلی؛ ومنل شي، چې اوس په دغه دين

باندې يواځې مسلمانان تګ کوي، او تاسې له دې طريقې ځنې مخ اوړولی دی، په لومړنيو آياتو کې يې خپلې ښېګڼې (فائدو) او انعامات را و ښوول، او س د هغوی هغه شبهه ردوي او دفعه کوي، چې بني اسرائيل خپل ځانونه د ټول عالم امام او متبوع او له ټولو ځنې ښه او افضل ګڼل، نو ځکه يې د بل هيڅا متابعت نه کاوه.

وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا

او (ياد کړه ای محمده !) هغه وخت چې وګرځوله مونږ کعبه ځای د ثواب (او اجتماع) خلقو ته او ځای د امن.

تفسير: يعنې هر کال د حج لپاره خلق هلته سره راټولېږي، او هلته د حج ارکان ادا کوي، نو دا خلک له دوزخ له عذابه ساتلي او مأمون کېږي، يا هلته په بل هيڅا څه تجاوز او تېرى نه کېږي.

وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى

او ونيسئ (ای مؤمنانو !) له ځای د (درېدلو د) ابراهيم ځنې ځای دلمانځه (أو طواف او دعا).

تفسير: «مقام ابراهيم عليه السلام» هغه تېږه ده، چې ابراهيم عليه السلام د کعبې شريفې د ودانولو په وخت کې پرې درېده، په دې تېږې باندې د ابراهيم عليه السلام د پښو نښې دي، او دی په همدې تېږې باندې د حج د دعوت لپاره درېدلی وو، اوس حکم دی، چې له دې تېږې (ګټې) نږدې لمونځ وکړل شي، او دا حکم استحبابي دی.

وَعَهِدْنَا إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ﴿١٢٥﴾

او حکم کړی وو مونږ ابراهيم ته او اسماعيل ته؛ چې پاک کړئ ! (او پاک وساتئ ! تاسې دواړه پلار او ځوی) کور (د عبادت) ځما لپاره د طواف کوونکو او معتکفينو (يا دمسافرانو او مقيمانو) او (لپاره د) رکوع کوونکو، سجده کوونکو، (لمونځ کوونکو).

تفسير: يعنې دلته دې خلق خراب کارونه ونه کړي !، او د هغه په چپ چاپېر (چار چاپېره) کې دې ناولي ونه ګرځي، او طواف دې په طهارت سره وکړي !، او له ټولو چټليو (ګندګيو) ځنې دې بيت الله شريف پاک، صفا وساتل شي !.

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَٰذَا بَلَدًا آمِنًا

او (ياد کړه ای محمده !) هغه وخت چې وويل ابراهيم: ای ربه ځما ! وګرځوه دا ښار (چې کعبه مې په کې ودانه کړېده) ځای دامن.

تفسير: د کعبې شريفې د ودانولو په وخت کې ابراهيم عليه السلام داسې دعا کړې وه، چې دا ميدان دې ودان او مأمون ښار وي !، لکه چې همداسې هم وشول.

وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرَاتِ مَنْ آمَنَ مِنْهُم بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

او روزي ورکړه اوسيدونکو ته يې له هر راز ميوو نه، هر هغه چا لره چې ايمان يې راوړی دی له دوی ځنې په الله او په ورځ آخره باندې (چې د قيامت ورځ ده).

تفسير: يعنې ددې ځای هغو اوسيدونکو ته چې مسلمانان وي، رزق او روزي وروړسوه !، او مېوې ور ډېرې کړه !، او کافرانو ته يې دعا ونه فرمايله، چې هغه پاک ځای د کفارو له پليتي او ګندګۍ څخه پاک او صاف پاتې وي.

قَالَ وَمَنْ كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُ قَلِيلًا ثُمَّ أَضْطَرُّهُ إِلَىٰ عَذَابِ النَّارِ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٢٦﴾

وفرمايل (الله): او هر څوک چې کافر شو، نو فايده به ورکړم هغه ته لږه بيا به په زور (او خواري) بوځم دې عذاب د اور (د دوزخ) ته، او بد ځای د ورتلو دی (هغه اور).

تفسير: حق تعالى فرمايي چې په دنيا کې کفارو ته رزق ورکاوه شي، او د رزق حال لکه (امامت) داسې نه دی؛ چې هغه ما سوا له ايمان لرونکي بل چا ته نه ورکړي.

وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ ۖ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ۖ إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١٢٧﴾

او (ياد کړه ای محمده !) هغه وخت چې پورته کړل ابراهيم تاداوونه (بنيادونه) د کعبې او اسماعيل (هم ، او دواړو به ويل) ای ربه ځمونږ ! ته قبول کړه (دا کار) له مونږ څخه، بېشکه ته چې يې همدا ته ښه اورېدونکی، ښه پوهېدونکی يې.

تفسير: يعنی دا کار مونږ ته په خپل دربار کې قبول کړه ! (چې د کعبې ودانول دي)، ته د ټولو دعاوې اورې، او د دوی په نيتونو باندې پوهېږې.

رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُسْلِمَةً لَكَ ۖ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا ۖ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٢٨﴾ رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ ۚ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١٢٩﴾

ای ربه ځمونږه ! او وګرځوه مونږه حکم منونکي ستا، او (وګرځوه) له اولادې ځمونږ يوه ډله حکم منونکي ستا، او وښيه مونږ ته احکام د حج زمونږ، او قبوله کړه توبه ځمونږ، بېشکه ته همدا ته چې يې ښه توبه قبلوونکی، ښه مهربان يې.

ای ربه ځمونږ ! پيدا کړه (وليږه) په دوی کې يو رسول له دوی ځنې؛ چې دی لولي پر دوی باندې آيتونه ستا (چې دتوحيد او نبوت دلايل دي)، وښيي دوی ته کتاب (قرآن) او حکمت (شرعي احکام) او پاک کړي دوی (له ګناهونو)، بېشکه ته همدا ته يې ښه غالب دحکمت خاوند (په خپل کار کې).

تفسير: دا دعا ابراهيم او دده ځوي اسماعيل (عليهما السلام) دواړو کړېده، چې ځمونږ په نسل کې يوه حکم منونکې ډله پيدا کړه !، او يو داسې رسول په دوی کې وليږه ! چې هغو ته کتاب او حکمت وښيي !، نو داسې يو نبي چې د دوی دواړو له اولادڅخه دی پرته له خاتم المرسلين محمد صلى الله عليه وسلم څخه بل څوک نه دی، نو ددې له امله د يهودانو د پخوانيو خيالاتو پوره تردید وشو.

له (علم الكتاب) ځنې قرآن او دهغه ضروري مطالب او معاني مراد دي، چې له عبارت څخه واضح او ښکاره کيږي، او له (حكمت) څخه سنت او د دين فهم مراد دی.

وَمَنْ يَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ إِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهُ ۚ وَلَقَدِ اصْطَفَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا ۖ وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿١٣٠﴾ إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ ۖ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٣١﴾ وَوَصَّىٰ بِهَا إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ ۚ يَا بَنِيَّ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰ لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٢﴾

او څوک دی چې مخ ګرځوي له دین دابراهیم څخه (هیڅوک یې نه ګرځوي) مګر هغه څوک چې احمق ګرځولی وي ده ځان خپل، او البته په تحقیق غوره کړی وو مونږ ابراهیم په دنیا کې (په نبوت، خلت، او دبیت الله په تعمیر سره)؛ او بېشکه دې په آخرت کې له (خاصو) نېکانو څخه دی.

او (یاد کړه) کله چې وویل ابراهیم ته رب د ده، چې غاړه کیږده (ځما احکامو ته) نو وویل (ابراهیم): غاړه مې ایښې ده رب د عالمیانو ته.

او وصیت کړی وو په دې خپل سره ابراهیم ځامنو خپلو ته، او یعقوب (هم)، چې ای ځامنو ځما ! بېشکه چې الله غوره کړی دی تاسې دین (د اسلام) نو له سره مه مرئ تاسې مګر په هغه حال کې چې تاسې مسلمانان یئ، چې (پر اسلام تر ځنکدن او مرګ ثابت اوسئ !).

تفسیر: د هغه ملت او مذهب چې شرف یې ذکر شو، د همدې ملت وصیت ابراهیم او یعقوب (علیهما السلام) خپلو اولادو ته فرمایلی وو، نو هر هغه څوک چې دا وصیت ونه منې، نو دی د هغو له ویناوو ځنې هم سر غړوي.

یهودان وایي چې: «یعقوب علیه السلام خپلو اولادو ته د (یهودیت) وصیت فرمایلی دی»، دا وینا بالکل دروغ ده، لکه چې په وروستني آیت کې راځي.

له دې آیت څخه مقصد نهي ده له ترکه د اسلامه، نه له مرګه. لکه چې ویلی شي: «**لا تصل إلا وأنت خاشع !**» یعنې لمونځ مه کوه ! ای لمونځ کوونکیه ! مګر په هغه حال کې چې یې ته ویرېدونکی د الله څخه.

أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِن بَعْدِي قَالُوا نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِلَٰهًا وَاحِدًا وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٣﴾

آیا وئ تاسې حاضران په هغه وخت کې، چې راغې یعقوب ته (اسباب د) مرګ، کله چې وویل (یعقوب) ځامنو خپلو ته چې: د څه شي عبادت به کوئ پس له (مرګه) ځما؟ نو وویل دوی چې: عبادت به کوو د معبود ستا، او د معبود د پلرونو ستا چې ابراهیم او اسماعیل او اسحاق دي، هغه الله ته چې یو دی (شریک نه لري) او مونږ ټول هغه ته غاړه ایښودونکي یو.

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٣٤﴾

دغه یو ټولی وه چې په تحقیق تېر شوی دی، هغوی ته ده (جزا د) هغه څه چې کړي یې وي، او تاسې ته ده (جزا د) هغه څه چې کړي دي تاسې، او نه به تاسی پوښتل کیږئ له هغه څه چې وو دوی چې کاوه به یې (هغه).

تفسیر: یعنې یهودانو او نصرانیانو یقین درلود (لرلو) چې «د مور او پلار په ګناهونو به ځامن نیول کیږي، او د هغوی په ثوابو کې به هم برخه آخلي»، دا وینا بیخي غلطه او چټې (بېکاره) ده، بلکه د هر چا عمل د ده د لارې مل، او چاره یې تر غاړه ده، څه یې چې کرلي وي، هغه به ریبي، او هر څه یې چې کړي وي؛ هغه به یې په مخ کې راځي، ښه وي که بد.

وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ تَهْتَدُوا

او وایي دوی (کتابیان مسلمانانو ته): چې شئ ! یهودان یا (شئ) نصرانیان چې سمه لاره وموموئ.

تفسير: مطلب دا دی چې يهودان مسلمانانو ته وايي چې يهودان شئ ! او نصرانيان دوی ته وايي چې: نصرانيان شئ چې هدايت مو په برخه شي.

قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِـۧمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٣٥﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته چې مونږ داسې نه کوو) بلکه (متابعت کوو) ددين د ابراهيم چې په يوه لوري وو (يعنې ټينګ ولاړ وو پر حق او بيزار وو له باطل څخه)، او نه وو دی له مشرکانو څخه.

تفسير: يعنې ای محمده ! (صلی الله عليه وسلم) دوی ته ووايه چې ستاسې دا وينا هيڅ د منلو وړ نه ده، بلکه مونږ د ابراهيم عليه السلام له هغه ملت سره بالکل سم او موافق يو؛ چې له ګردو خرابو مذاهبو ځنې ببل دی. په دې خبره کې چې نه وو دی له شرک کوونکو ځنې؛ دې خبرې ته اشاره ده چې تاسې دواړه فرقې په شرک کې اخته يئ، بلکه د عربو نور مشرکان هم چې د ابراهيمي مذهب مدعيان وو، د شرک او کفر په سيند کې لاهو وو. له دې آيته په هغو هم رد وشو. له انصاف له مخې اوس له دې دوه وو فرقو څخه هيڅ يوه هم په ابراهيمي مذهب باندې نه ده، او يواځې مونږ مسلمانان په ابراهيمي مذهب پاتې يو.

فائده: په هر شريعت کې درې خبرې وي:

(١) عقايد، لکه توحيد، نبوت، او نور مؤمن به شيان، نو په دې کې ټول آسماني دين لرونکي شامل، شريک، او موافق دي، او اختلاف له سره په کې ممکن نه دی.

(٢) د شريعت کليه قواعد، چې له هغو ځنې جزئيات او فرعي مسائل حاصليږي، او په ټولو جزئياتو کې تل هماغه کليات ملحوظ او تر کتنې لاندې وي، او في الحقيقه ملت دهمدې اصولو او کلياتو نوم دی، او د محمد صلی الله عليه وسلم د ملت (دين) او د ابراهيمي ملت توافق او اتحاد هم په همدغو کلياتو کې دی.

(٣) د ګردو کلياتو او ټولو اصولو او فروعو مجموعه چې هغه ته شريعت وايي، چې ددې خلاصه داسې شوه چې د محمد رسول الله او ابراهيم خليل الله (عليهما الصلاة والسلام) ملت سره يو دی، او د دوی شريعتونه سره ببل ببل دي.

قُولُوٓا۟ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَمَآ أُوتِىَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَآ أُوتِىَ ٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٦﴾

ووايئ (ای مؤمنانو !) چې ايمان راوړی دی مونږ په الله او په هغه (قرآن) چې نازل کړی شوی دی په مونږ او په هغو (صحيفو) چې نازل کړی شوي دي، ابراهيم ته، او اسماعيل، او اسحاق، او يعقوب، او اولادې (ددوی) ته، او په هغو (کتابونو او معجزاتو) چې ورکړی شوي موسی ته، او (ورکړي شوي دي) عيسی ته، او (پر) هغو (کتابونو) چې ورکړی شوي دي (نورو) انبياوو ته له ربه د ددوی نه، حال دا چې نه کوو فرق په منځ د يوه تن له دوی ځنې (په نبوت او نه نبوت سره) او مونږ الله ته غاړه ايښودونکي يو.

تفسير: يعنې مونږ په ټولو انبياوو او کتابونو ايمان لرو، او ټول حق ګڼو، او هر يو له دوی ځنې په خپله زمانه کې واجب الاتباع بولو. مونږ د الله تعالی حکم منونکي يو، او وايو چې په هره زمانه کې هر نبی عليه السلام چې هر الهي حکم له ځانه سره راوړی دی؛ د هغو منل او اتباع ضروري دي، پرته له کتابيانو ځنې چې له خپل دين څخه په غير د نورو

ټولو اديانو تكذيب كوي، اګر كه د دوی دين منسوخ شوی هم و ي، او د انبياوو هغه احكام دروغ ګڼي، چې د الله تعالى احكام دي.

فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا ۖ وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ ۖ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١٣٧﴾

نو كه ايمان راوړي (دا يهود او نصارى) لكه چې تاسې ايمان راوړى دى په هغه (مؤمن به شيانو بې له فرقه) نو په تحقيق يې وموندە سمه لاره، او كه يې مخ وګرځاوه (له ايمانه) نو بېشكه خبره همدا ده چې دوی (له تاسې سره) په مخالفت كې دي، نو ژر ده چې كافي به شي په (دفع د شر) د دوی كې تا لره الله، او هم دې دى ښه اورېدونكى (داقوالو) ښه عالم (په احوالو).

تفسير: يعنې ددوی له دښمنۍ او ضد څخه مه وېرېږئ !، پاك الله د هغوی له شر او ضرر څخه ستاسې ساتونكى دى، هغوی تاسې ته هيڅ ورانى نه شي رسولى، الله تعالى د ټولو خبرې اوري، او په ټولو احوالو او نيټونو خبر او پوه دى.

صِبْغَةَ اللَّهِ ۖ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ صِبْغَةً ۖ وَنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ ﴿١٣٨﴾

(او وايئ: اى مؤمنانو ! چې مونږ الله رنګ كړي يو) په رنګ د الله، او څوك ښه دى له الله څنې له جهته د رنګه (ددين)، او مونږ خاص ده لره عبادت كوونكي يو.

تفسير: يهودان له دې آيتونو څنې واوښتل او اسلام يې ونه مانه، او نصرانيانو هم انكار وكړ، او د لافو او باټو په ضمن كې به يې ويل چې: «له مونږ سره داسې يو رنګ شته چې له مسلمانانو سره نشته».

دنصرانيانو دا دود (رواج) وو چې يو ډول زېړ رنګ يې جوړ كړى وو، او كله به چې په دوی كې كوم وړوكى پيدا كېده، او يا به كوم سړى د دوی په دين كې داخلېده، نو دوی به په هغه رنګ رنګاوه، او په هغه كې به يې غوټه كاوه، چې سوچه او ستره نصراني شي، نو پاك الله فرمايي چې: «اى مسلمانانو ! ووايئ چې مونږ د الله تعالى په رنګ سره رنګ شوي يو؛ چې ايمان دى، حق دين مو منلى دى چې ددې حق دين له منلو او ننوتلو څخه وروسته ټولې ناپاكۍ او ناولتياوې او نور كثافات (خيري) بيخي لري كيږي، او هر مسلمان په كې پاك، صاف كيږي».

قُلْ أَتُحَاجُّونَنَا فِي اللَّهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۖ وَلَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ ۖ وَنَحْنُ لَهُ مُخْلِصُونَ ﴿١٣٩﴾

ووايه (اى محمده ! دوی ته) آيا جګړه كوئ تاسې له مونږه سره په (دين) د الله كې؛ حال دا چې هغه دى رب ځمونږ او رب ستاسې، او مونږ لره دي عملونه ځمونږ، او تاسې لره دي عملونه ستاسې، او مونږ خاص الله لره په اخلاص (عبادت كوونكي) يو.

تفسير: يعنې د الله تعالى په نسبت ستاسې داسې نزاع او جګړې كول او داسې ګڼل چې د الله تعالى د رحمت او عنايت لايق او مستحق پرته له مونږ څنې بل هيڅوك نشته؛خوشې بېكاره خبره ده، او هغه پاك ذات همغسې چې ستاسې رب دى، ځمونږ رب هم دى، او مونږ څه عملونه چې كوو، خالص الله تعالى لره يې كوو، مونږ تاسې غوندې يواځې په خپلو پلرونو او نيكونو افتخار نه كوو، او په تعصب، نفسانيت، او حسد كې اخته نه يو، نو بيا به ولې ځمونږ عملونه د پاك رب په دربار كې نه منل كيږي؟ !

أَمْ تَقُولُونَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطَ كَانُوا هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ ۗ قُلْ ءَأَنتُمْ أَعْلَمُ أَمِ اللَّهُ ۗ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَتَمَ شَهَادَةً عِندَهُ مِنَ اللَّهِ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٤٠﴾

آیا وایئ تاسي (ای کتابیانو !) چې بېشکه ابراهیم او (دده ځامن او لمسي) اسماعیل او اسحاق او یعقوب او اولاد (د دوی) وو دوی (ټول) یهودیان یا نصرانیان؛ ووایه (ای محمده ! دوی ته) آیا تاسې ښه پوهیږئ که الله؛ او څوک دی زیات ظالم له هغه چا نه چې پټوي له خلقو (ثابته) شاهدي په نزد د ده له طرفه د الله؛ او نه دی الله بې خبره له هغه څه چې تاسې یې کوئ.

تفسیر: د ابراهیم او اسماعیل او نورو انبیاوو (علیهم السلام) په نسبت چې کتابیانو داسې دعوی کوله چې: دوی یهودیان یا نصرانیان وو؛ ښکاره او صریحه دروغ ده، برسېره پر دې حق تعالی فرمایي: ﴿مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا﴾ (د آل عمران سورت ۶۷ آیت) نو اوس راوښیئ ! چې ستاسې پوهه او علم زیات دی، که د هغه (علام الغیوب الله تعالی)؟ .

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۖ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ ۖ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٤١﴾

دغه یوه ډله وه چې په تحقیق تېره شوې وه، هغوی لره ده (جزا) د هغه څه چې کړي یې وي، او تاسې لره ده (جزا) د هغه څه چې کړي دي تاسې، او نه به تاسی پوښتل کیږئ له هغه څه چې وو دوی چې کول به یې.

تفسیر: همدا آیت وړاندې تېر شوی دی، هر کله چې ددې کتابیانو په زړونو کې تکبر او غرور ځای نیولی وو، او داسې یې ګڼل چې ځمونږ أعمال هر څومره چې خراب وي، بیا به هم ځمونږ پلرونه شفاعت کوي، او بخښنه به راته غواړي، نو ځکه دداسې چټې خیالاتو د لا ښه تردید کیدلو لپاره یې هغه آیت بیا مکرر بیان وفرمایه، داسې وپوهیږئ چې په پخواني آیت کې کتابیانو ته خطاب وو، او په دې آیت کې (محمدي) امت سره مخاطبه ده، چې په دې چټې خیال کې د هغوی متابعت او پیروي مه کوئ !، ځکه چې دا راز هیلې او توقعات هر سړی د خپلو مشرانو او مړو ځنې په خپل زړه کې کولی شي، چې داسې تخیلات او توقعات بیخي غلط او چټې دي، اوس وروسته له دې نه د یهودانو او نورو مشرکانو دیوې بلې ناپوهۍ او حماقت څخه اطلاع ورکول کیږي، چې د قبلې د تحویل په نسبت عنقریب راتلونکې ده.

سَيَقُولُ السُّفَهَاءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلَّاهُمْ عَن قِبْلَتِهِمُ الَّتِي كَانُوا عَلَيْهَا ۚ

ژر ده چې وبه وایي ناپوهان له خلقو چې څه شي وګرځول دوی (یعنې رسول صلی الله علیه وسلم او مؤمنان) له قبلې د دوی څخه، هغې نه چې وو دوی په هغې باندې؟

تفسیر: کله چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مکې شریفې څخه مدینې منورې ته تشریف راوړ، تر ۱۶ – ۱۷ میاشتو پورې یې د بیت المقدس په لوري لمونځ کاوه، وروسته مامور شول، چې د کعبې شریفې په لوري خپل مخ وګرځوي، دلته یهودان اومشرکان، منافقان او ځینې ضعیف الاعتقاد مسلمانان په اند ښنو او شبهو کې ولوېدل، او مخالفانو په ټوقو او مسخرو لاسونه پورې کړل، او داسې به یې ویل: «دوی خو تر اوسه پورې د بیت المقدس په لوري چې د ټولو انبیاوو قبله وه، لمونځ کاوه، نو اوس په دوی څه وشول، چې هغه د پخوانیو انبیاوو قبله یې پرښنوده؟ او دکعبې په لوري یې مخ وګرځاوه؟»، چا به ویل چې: «دیهودانو د عداوت له امله یې داسې وکړل»، ځینو به ویل چې: «دې په خپل دین کې متردد او متحیر دی، چې له دې چارو ځنې د ده تذبذب او عدم نبوت راښکاره کیږي»، نو الله تعالی ځواب ورکړ چه:

قُلْ لِّلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۚ يَهْدِي مَن يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٤٢﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) چې الله لره دى مشرق او مغرب (بلكه ټول جهات) هدايت كوي هغه چا ته چې اراده (دهدايت يې) وكړي (طرف) د لارې سمې ته (چې اسلام دى).

تفسير: يعنې اى محمده ! دغو ناپوهانو ته ووايه چې: نه مونږ ديهودانو له عداوته، او نه د بل كوم نفساني تعصب له امله، او نه له خپلې شخصي رايې له متابعته، خپله قبله بدله كړېده، بلكه مونږ يواځې د الله تعالى د فرمان په اثر، چې ځمونږ د حق دين اساس دى، دا قبله بدله كړه، تر هغه وخته پورې چې مونږ مامور وو چې دبيت المقدس په لورې لمونځ وكړو، نو مونږ هغه حكم ومانه، اوس چې مونږ مامور شوي يو، چې د كعبې شرېفې په لورې مخ وګرځوئ ! نو مونږ دزړه له كومې دا حكم هم ومانه، نو ددې په نسبت له مونږ ځنې داسې پوښتنې، او پر مونږ دا راز اعتراضونه كول سخت حماقت دى.

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا ۗ

او همداسې (لكه چې هدايت مو درته كړى دى) ګرځولي يئ مونږ تاسې يوه ډله غوره لپاره ددې چې شئ شاهدان په نورو خلكو (دجزا په ورځ د انبياوو له خوا) او چې شي (محمد) رسول (د الله) پر تاسې (اى محمدي امته !) شاهد.

تفسير: يعنې هماغسې چې كعبه ستاسو قبله ده، او د ابراهيم عليه السلام قبله ده، او له ټولو قبلو ځنې افضله ده، همدا راز مې تاسې هم له ټولو امتونو ځنې افضل، او ستاسې رسول مې هم له ټولو نبيانو او رسولانو څخه اكمل منتخب او غوره كړى دى، چې ددې فضيلت او كمال له سببه تاسې د نورو ټولو امتونو په مقابل كې داسې شاهدان چې مقبول الشهادت وي منل كيږي، او محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم ستاسې په عدالت او صداقت شاهدي وركوي، لكه چې په احاديثو كې راغلي دي «كله چې د پخوانيو امتونو كافران د خپلو رسولانو د دعوى تكذيب وكړي، او ووايي چې: مونږ ته په دنيا كې د هيڅوا له خوا هدايت او لار ښوونه نه ده شوې، نو په دغه وخت كې محمدي امت د رسولانو د دعوى په صداقت باندې شاهدي وركوي»، او محمد صلى الله عليه وسلم ددوى په صداقت او عدالت باندې شاهدي وركوي، دلته به نور امتيان وايي چې: «دوى نه ځمونږ په زمانه كې وو، او نه بيخي مونږ او دوى سره ليدلي دي، نو د دوى شاهدي په مونږ څرنګه اوربدله كيږي؟؟» دلته به محمدي امت داسې ځواب وركوي چې: «مونږ ته دا ټولې خبرې د الله تعالى له كتابه او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له ښوونې څخه را څرګندې شوې، او دغه امر مونږ ته د (علم اليقين) تر حده رسيدلى دى، نو ځكه مونږ پر تاسې شاهدي لولو.

فائده: د (وسط) معنى يعنې معتدل، مطلب دا دى چې: محمدي امت بيخي په سمه لار دى، چې په هيڅ ډول د هيڅ شانې كوږوالي شائبه په كې نشته، او له افراط او تفريط څخه بيخي پاك دى.

وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنتَ عَلَيْهَا إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ الرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ ۚ

او نه ده ګرځولې مونږ (دا) قبله هغه چې وې ته (پخوا له هجرت نه) په هغې باندې مګر لپاره ددې چې مونږ معلوم كړو هغه څوك چې پيروي كوي د رسول له هغه چا چې بېرته ګرځي په پندو خپلو (كفر ته).

تفسير: يعنې اصلي قبله خو همدغه كعبه وه، چې د ابراهيم عليه السلام له زمانې را هيسې پاتې ده، د څو ورځو له مخې چې ستاسې قبله بيت المقدس ټاكلې (مقرر) شوې وه، يواځې د امتحان لپاره وه، چې څوك له تاسې امر منونكي

پاتې کيږي؟ او څوک مخ اړوي؟ نو هر څوک له دوی څخه چې پر ايمان باندې قائم پاتې دي، د هغوی درجې لوړې دي.

فائدة: په دې آيت کې ﴿لِنَعْلَمَ﴾ چې د مستقبل صيغه ده، او په ﴿حَتَّىٰ نَعْلَمَ﴾ ﴿فَلَيَعْلَمَنَّ﴾ ﴿وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ﴾ ﴿وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ﴾ ﴿إِلَّا لِنَعْلَمَ﴾ او نورو آيتونو کې چې د مستقبل کلمې راغلي دي، محققين هغه علم حالي بولي، چې له وجود څخه وروسته ښکاره او متحقق کيږي، او په هغه باندې جزا او سزا - مدح او ذم مترتب کيږي، او همدا يې غوره کړی دی.

وَإِن كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ ۗ

او بېشکه دی دا ګرځېدل (کعبې ته) هرو مرو (خامخا) ډېر درانه، مګر نه دي (درانه) په هغو کسانو چې سمه لاره ورته ښوولې ده الله.

تفسير: لومړی ځمونږ د رسول صلی الله علیه وسلم لپاره بيت الله شريف قبله مقرره شوې وه، بيا د څه وخت لپاره د امتحان په توګه بيت المقدس قبله مقرره شوه، او ټول پوهيږي چې امتحان په هغه شي کې وي؛ چې په نفس باندې درونديږي، نو پاک الله فرمايي چې: بېشکه د کعبې شريفې په ځای بيت المقدس قبله ګرځول په خلقو ښه ونه لګيدل، په عوامو مسلمانانو له دې سببه چې هغوی عموما عرب او قريش او د کعبې شريفې په افضليت معتقد وو، کله چې په دوی د دوی له خيال، عادت، رسم، او رواج ځنې مخالف کار تحميل شو، نو متأثر شول، او د خواصو وړېدلو سبب دا وو، چې د ابراهيمي دين ځنې دا عمل مخالف وو، چې دوی د هغه په موافقت مامور وو.

وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤٣﴾

او نه دی الله چې ضايع کړي ايمان (لمونځ) ستاسې (ای مؤمنانو !) بېشکه الله په خلقو (مؤمنانو) باندې خامخا ډېر مهربان دی (پوره رحم کوونکی دی).

تفسير: يهودانو ويل: کله چې مو اصلي قبله بيت الله وه، نو ستاسې ددومره مودې هغه لمونځونه چې د بيت المقدس په طرف مو کړي دي؛ ټول ضايع شول، ځينې مسلمانانو ته داسې شبهې ورولوېدې، کله چې بيت المقدس ځمونږ اصلي قبله نه وه، نو هغه مسلمانان چې په هغه حالت کې مړه شوي دي، د هغوی په ثواب کې به هم نقصان واقع شوی وي، البته ژوندي مسلمانان به په راتلونکې زمانه کې د هغه تلافي وکړي، نو دا آيت نازل شوو: کله چې تاسې يواځې دخپل ايمان او د پاک الله د اطاعت له کبله دبيت المقدس په لوري لمونځ کړی دی، نو ستاسې اجر او ثواب ته څه زيان نه پېښيږي.

قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ ۖ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا ۚ

په تحقيق سره وينو مونږ (بيا بيا) ګرځول دمخ ستا په (طرف د) اسمان، نو مونږ به وګرځوو خامخا تا هغې قبلې ته چې ته يې خوښوې.

تفسير: کله چې مسلمانانو ته يهودانو طعنې او پيغورونه ورکول او ويل يې: «دا نبي چې ځمونږ له شريعت ځنې مخالف او له ابراهيمي دين سره سم کار کوي، ولې ځمونږ د قبلې په لوري لمونځ کوي؟»، نو ځکه ددغو سببو له امله په هغه زمانه کې چې دوی د بيت المقدس په لوري لمونځ کاوه، نو دهغه په زړه کې تل داسې خبرې ګرځېدلې، که د الله تعالی له لورې حکم راکړی شي، چې بيا د کعبې په لوري لمونځ وکړم، او په دې شوق کې به يې کله کله د آسمان په لوري مخ اړاوه، او هر طرف ته به يې کتل، چې ښايي په هغې پرښتې باندې يې سترګې ولګيږي، چې داسې زيری ورکړي، نو په دې مناسبت پر دوی دغه آيت نازل شو، او د کعبې شريفې د استقبال دا حکم راغی.

فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

نو وګرځوه مخ خپل په لوري د مسجد الحرام (کعبې ته په لمانځه کې).

تفسير: يعنې د کعبې شريفې په لورې، مسجد الحرام يې ځکه بولي؛ چې هلته مقاتله کول، د حيواناتو ښکار کول، د ونو او ونښو پرې کول او نور شيان حرام دي، کله چې د قبلې د تحويل دا حکم نازل شو، صحابه کرامو رضي الله عنهم د قباء په مسجد کې د سهار لمونځ کولو، مخونه يې شام خوا ته وو، هغوی ته يو سړی راغی، ورته ويې ويل چې: په رسول الله صلى الله عليه وسلم آيتونه نازل شول، چې په کې قبله د کعبې شريفې خوا ته وګرځول شوه، نو لمونځ کوونکو په لمانځه کې کعبې شريفې ته مخونه را وه ګرځول، (صحيح البخاري، حديث (٤٤٩٠).

وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ

او په هر ځای کې چې اوسئ نو وګرځوئ (تاسې) مخونه خپل (په لمانځه کې) په لوري دهغې (کعبې).

تفسير: يعنې په سفر يا په حضر کې په مدينې منورې يا په بل ښار کې، په وچه يا په درياب کې، په غره يا په ډاګ (صحرا) کې، يا پخپله بيت المقدس، يا په بل کوم ښار کې، هر چېرې چې يئ دبيت الحرام په لوري لمونځ ادا کړئ !.

وَإِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَبِّهِمْ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٤٤﴾

او بېشکه هغه کسان چې دوی ته ورکړل شوی دی کتاب خامخا پوهيږي دوی چې بېشکه دا (استقبال الکعبة) حق دی له لوري د رب د دوی، او نه دی الله ! غافل له هغو کارو ځنې چې کوي يې دوی.

تفسير: يعنې هغه اعتراضونه چې کتابيان يې د قبلې د تحويل په نسبت کوي، هغوی ته هيڅ غوږ مه ږدئ !، ځکه چې د هغوی په آسماني کتابونو کې دا خبره ښکاره ده، چې خاتم المرسلين صلى الله عليه وسلم به د څه مودې له مخې بيت المقدس په لوري لمونځ کوي، او په پای (آخر) کې به د کعبې شريفې په لوري لمونځ کوي، او دا هغو ټولو ته معلوم دی، چې د محمدي امت اصلي او دائمي قبله به د ابراهيمي دين سره سمه وي، نو ځکه هغوی دا د قبلې تحويل هم حق ګڼي، خو د حسد له مخې هر څه يې چې په خوله راځي هغه وايي، الله تعالى ددوی په ټولو خبرو ښه عالم دی، او د دوی د ويناوو نتائج به يوه ورځ هغوی ته څرګند کړي.

وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ بِكُلِّ آيَةٍ مَا تَبِعُوا قِبْلَتَكَ وَمَا أَنْتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ وَمَا بَعْضُهُمْ بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ

او قسم دی خامخا که ته راوړې هغو کسانو ته چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب په هر قسم دليل سره؛ نه به شي تابع دوی د قبلې ستا، او نه يې ته (ای محمده !) تابع کيدونکی د قبلې د دوی، او نه دي ځينې د دوی تابع کېدونکي دقبلې دځينو (نورو).

تفسير: يعنې دوی داسې معتصب دي، که ته هغه ټولې ممکن الوقوع نښې دوی ته وښيي، خو بيا هم ستا قبله نه مني، دوی خو په دې غوښتنه او آرزو کې دي، چې په څه ډول تاسې د خپل ځان تابع وګرځوي، مګر د دوی دا خيال چټې او باطل دی، ته هيڅکله د هغوی د قبلې متابعت نشې کولای، ځکه چې دا د کعبې استقبال تر قيامته پورې نشي منسوخ

کيداى، أو کتابيان هم يو له بله سره د قبلې په امر کې ډېرې جګړې او خبرې لري، د يهودانو قبله د بيت المقدس صخره ده، او د نصرانيانو قبله د بيت المقدس هغه شرقي خوا ده، چې د عيسى عليه السلام د روح نفخ په کې شوى وو، کله چې دوى په خپلو مينځو کې نه جوړيږي، نو له مسلمانانو ځنې ددې نقيضو متابعت غوښتل، يوائې جهل او حماقت دى.

وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ إِنَّكَ إِذًا لَمِنَ الظَّالِمِينَ ﴿١٤٥﴾

او خامخا که بالفرض تابع شې ته دخواهشاتو د دوى وروسته له هغه چې راغى تاته له علمه (چې وحيې ده) بېشکه ته به په دغه وخت کې خامخا يې له ظالمانو ځنې.

تفسير: يعنې قطع نظر له دغو دلائلو ځنې که د لږې مودې له مخې دا ومنل شي، چې (نعوذ بالله) ځمونږ رسول صلى الله عليه وسلم د کتابيانو د قبلې متابعت د وحيې له نزوله او يقيني علم څخه په خلاف وکړي، نو په دې محال تقدير دوى بېشکه د بې انصافانو له ډلې ځنې شمېرل کيږي، او له يو نبي ځنې دداسې شنيع امر کېدل ممکن الوقوع نه دي، نو ښکاره شوه چې د کتابيانو د قبلې متابعت له تاسې ځنې له سره ممکن نه دى، ځکه چې بيخي له علمه چپ دى، يعنې جهل او ګمراهي ده.

الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ ۖ وَإِنَّ فَرِيقًا مِنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤٦﴾
الْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿١٤٧﴾

هغه کسان چې ورکړى دى مونږ دوى ته کتاب؛ پېژني دوى هغه (يعنې محمد او اسلام د دوى د کتابو په تعريف) لکه چې پېژني دوى ځامن خپل، او په تحقيق چې يوه ډله له دوى ځنې خامخا پټوي حق (وصف د محمد) حال داچې دوى پوهيږي (په حقانيت د اسلام او نبوت د محمد «صلى الله عليه وسلم»).
حق ثابت دى له رب ستا نو مه کيږه ته خامخا له شک کوونکو څخه !.

تفسير: يعنى کتابيان تا ډېر په ښه شان سره پېژني، او ستا د نسب، قبيلې، مولد، مسکن، شکل، اوصاف، او له ټولو احوالو ځنې په ښه شان سره پوه او خبر دي، چې ددې علامو او ښه پېژندګلوى له امله هغوى ستاسې په موعوده نبوت ښه علم او باور لري، او داسې مو ښه پېژني لکه چې په ډېرو هلکانو کې خپل ځامن بې له تردده او تأمله پېژني، مګر د دوى له مخالفت ځنې هيڅ اندېښنه مه کوه ! او هيڅ تردد په کې مه لره !.

وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا ۖ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ ۚ أَيْنَ مَا تَكُونُوا يَأْتِ بِكُمُ اللَّهُ جَمِيعًا ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٤٨﴾

او هر يوه (امت) لره يوه قبله ده، چې هغه مخ ګرځوونکي دي هغې ته (په لمانځه کې)، نو تاسې وړاندې شئ ! (يو تر بله) نيکيو ته، هر چېرته چې يئ (تاسې) رابه ولي تاسې الله ټول (په قيامت کې لپاره د جزاء د اعمالو)، بېشکه چې الله په هر شي باندې قادر دى.

تفسير: يعنې الله تعالى هر ملت لره يوه قبله ټاکلې (مقرره کړې) ده، چې د هغې په لورې د عبادت په وخت کې مخ وګرځوي، يا هغه مسلمانان ملتونه چې د کعبې په بېلو بېلو اړخونو لکه شرق، غرب، شمال، او جنوب کې پراته دي؛ نو په دې باب بحث کول، يا پخپله قبله او سمت باندې جګړې ته ملا تړل، عبث او خوشې خبره ده، هو ! هغه نيکي چې مطلوب او مقصود ده، د هغې په لورې پېش قدمي او وړاندې تګ کول په کار دي.

وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ وَإِنَّهُ لَلْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿۱۴۹﴾
وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ

او هر ځاي ته چې ووځې ته (ای محمده !) نو وګرځوه ته مخ خپل په لوري د مسجد حرام (په لمانځه کې) او بېشکه دا مخ ګرځول کعبې ته خامخا حق دي له طرفه د رب ستا، او نه دی الله بې خبر له هغه شي چې تاسې يې کوئ.
او هر ځاي ته په هر وخت کې چې ووځې ته (ای محمده ! سفر ته، او قصد د لمانځه وکړې) نو وګرځوه ته مخ خپل په لوري د مسجد حرام (په لمانځه کې) او په هر ځای او هر وخت کې چې يئ (ای مؤمنانو) نو وګرځوئ (تاسې) مخونه خپل په لوري د هغې (کعبې).

تفسير: د قبلې تحويل يې مکرر او بيا بيا ځکه وفرمايه چې د هغه علل او عوامل متعدد دي، نو د هر علت د څرګندولو لپاره دغه حکم تکرار شوی دی، له ﴿قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ﴾ الآيه - څخه معلوميږي چې د خپل رسول د خوښې او رضا او دهغه د تکريم لپاره يې هم دا حکم کړی دی.

﴿وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا﴾ ځنې معلوميږي چې د الله عادت په همدې باندې جاري دی، چې هر ملت او هر پيغمبر ته چې د مستقل شريعت خاوند وي، د هغه له شان سره مناسبه مستقله قبله ټاکي (مقرروي).

او د ﴿لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ﴾ څخه معلوميږي چې ددې ذکر شوي حکم علت دا دی چې د مخالفانو الزام عائد نشي، يا به د دې تکرار سبب داسې وي؛ چې اول: د قبلې مسئله د خاص اهتمام وړ (لائق) ده، دويم: په الهي احکامو کې نسخ واقع کېدل، د ناپوهانو له پوهې ځنې خورا (ډېر) لوړ کار دی، دريم: د قبلې تحويل اوله نسخه ده چې په محمدي شريعت کې ظاهره شوې ده، نو ځکه د هغې بيا بيا تکرار او تأکيد عين حکمت او بلاغت دی، يا به دا وجه وي چې په اول آيت کې د احوالو تعميم، او په دويم آيت کې د امکنه وو تعميم، او په دريم آيت کې د ازمنه وو تعميم مراد دی.

لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ إِلَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِي

ددې لپاره چې نه وي خلقو (يعنې يهودانو او مشرکانو) ته په تاسې هيڅ اعتراض، مګر (اعتراض) د هغو کسانو چې ظالمان دي له دوی ځنې، نو مه وېرېږئ له (اعتراضو) د دوی څخه او ووېرېږئ له ما ځنې (او زما نافرماني مه کوئ !).

تفسير: يعنې کعبې ته مخ ګرځول؛ ددې لپاره چې په تورات کې ذکر شوي وو، چې د ابراهيم عليه السلام قبله بيت الله دی، او دآخرې زمانې نبي صلى الله عليه وسلم ته به هم د هغه په لوري د مخ ګرځولو حکم کيږي، که په محمد صلى الله عليه وسلم باندې د قبلې د تحويل حکم نه کېدی؛ نو يهودانو به خامخا په دوی الزام اړاوه، له بل لوري به د مکې مشرکانو داسې ويل چې: د ابراهيم عليه السلام قبله خو کعبه وه، دا نبي چې د ابراهيمي دين مدعي دی، نو د هغه له قبلې ځنې ولې مخالفت کوي؟ نو اوس د قبلې د تحويل د حکم له کبله دوی دواړو ته د اعتراض ځای پاتې نه شو، مګر بې انصافان اوس هم پر تاسې باندې په څه نا څه الزام اړولو کې بوخت (مشغول) دي، نو د دغسې اعتراضاتو هيڅ پروا ونکړئ !او تل ځمونږ د حکمونو تابع اوسئ !.

وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِي عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿۱۵۰﴾

او لپاره د دې چې پوره کړم زه نعمت خپل په تاسې باندې (په هدايت سره) او ښايي چې تاسې لار وموئ (حق ته).

تفسیر: یعنې دا قبله مو تاسې ته ددې له امله مقرره کړېده، چې د دښمنانو له پیغورونو ځنې خلاص شئ، او د هغو په سبب زمونږ د انعامونو، اکرامونو، مستحق او د انوارو او هداياتو پوره وړ شئ.

كَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِيكُمۡ رَسُولٗا مِّنكُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِنَا وَيُزَكِّيكُمۡ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمۡ تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ ١٥١

لکه چې لږلی دی مونږ په تاسې کې رسول له جنس د تاسې (لپاره د اتمام د نعمت خپل) چې لولي په تاسې آیتونه (قرآن) زمونږ، او پاکوي تاسې (له کفره) او ښیي تاسې ته کتاب (قرآن)، او (دهغه عمیق اسرار او) احکام، او ښیي تاسې ته هغه شیان چې نه وئ تاسې چې پرې پوهېدئ.

تفسیر: یعنې د نعمت د اتمام، او د هدایت تکمیل پر تاسې داسې شوی دی، لکه چې پخوا له دې نه په تاسې کې داسې یو رسول مبعوث شوی دی، چې تاسې ته د الله تعالی احکام در ښیي.

فَٱذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِي وَلَا تَكۡفُرُونِ ١٥٢

نو یاد کړئ (تاسې) ما (په قلبي او بدني طاعت سره) نو زه به هم یاد کړم تاسې (په ثواب سره) او شکر وباسئ ! ما لره په (طاعت) او مه کافران کیږئ په ما باندې (په معصیت سره !).

تفسیر: کله چې ځمونږ د لوري په تاسې مکررًا د نعمت اتمام شوی دی، نو اوس پر تاسې هم لازم دي، چې ما په ژبه، زړه، ذکر، فکر، او هر ډول سره یاد کړئ !، او حکم مې ومنئ !، چې مونږ به هم تاسې یادوو، او نوي نوي رحمتونه او عنایتونه به پر تاسې کوو، او زما د نعمتو شکریه په ښه شان سره ادا کړئ !، او زما له نا شکرۍ او معصیت ځنې ځانونه وژغورئ (محفوظ کړئ) !.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٥٣

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو) مدد وغواړئ (تاسې) له (الله ځخه) په صبر (له معصیته او مصیبت په طاعت) او لمانځه سره، بېشکه چې الله له صبر کوونکو سره دی.

تفسیر: کله چې ذکر، شکر، او د کفران ترک چې په لمړي آیت کې یې ذکر راغلی دی، ټولو شرعي طاعاتو او منهیاتو ته شامل دی، چې د هغوی په ځای کول ډېر سخت کار دی؛ نو د هغه د سهولت او آسانۍ لپاره یې دا طریقه را ښوولې ده، چې د) صبر او صلاة (په وسیله، او د هغو د مداومت په ذریعه ټول کارونه په تاسې آسانېږي، او په دې آیت کې دې خبرې ته اشاره ده، چې په جهاد کې زیار (محنت) باسئ !او په هغه کې صبر لویه درجه لري، چې د هغه ذکر وروسته راځي.

وَلَا تَقُولُواْ لِمَن يُقۡتَلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتُۢۚ بَلۡ أَحۡيَآءٞ وَلَٰكِن لَّا تَشۡعُرُونَ ١٥٤

او مه وایئ تاسې هغه چا ته چې ووژل شي په لاره د الله (جهاد) کې چې (دوی) مړه دي، (دوی مړه نه دي) بلکه ژوندي دي، ولیکن تاسې نه پوهېږئ (د دوی په ژوندانه).

تفسیر: یعنې هغه ځوک چې د الله تعالی په لار کې ووژل شي هغه مړ نه دی، بلکه ژوندی دی، مګر تاسې د هغه په برزخي ژوندانه خبر نه یئ !، او نه یې کیفیت در ښکاره دی، او دا هم د صبر نتیجه ده.

وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ ۗ

او خامخا مونږ آزمويو تاسې په يوه شي چې هغه عبارت دی (ددښمن) له وېرې، او له لوږې (قحط) او له کموالي د مالونو (په راز راز آفتونو سره) او د نفسو (په قتل، موت، مرض، او نورو) او د مېوو (په آسماني او ځمکني آفتونو سره).

تفسير: يا به مراد د الله خوف، د روژې لوږه، د زکات نقصان، د بدن امراض، او د اولاد موت وي چې (ثمرة الفؤاد(يې بولي، لومړی د هغو کسانو ذکر وو، چې د صبر لوړې مرتبې يې حاصلې کړې دي، يعنې «شهيدان»، اوس فرمايي چې: الله تعالى عموما په لږ لږ تکليف او مصيبت سره وخت په وخت له تاسې څخه امتحان اخلي، او د صبر آزمويښه مو کوي، ځکه چې د صابرينو په ډله کې داخلېدل څه آسان کار نه دی، نو له همدې امله يې لا له پخوا څخه تنبيه وفرمايله.

وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ ﴿١٥٥﴾ الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴿١٥٦﴾ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ ﴿١٥٧﴾

او زېرې ورکړه صبرکوونکو ته (په جنت سره، صبر کوونکي) هغه کسان دي؛ کله چې ورورسېږي دوی ته څه مصيبت، نو وايي دوی: بېشکه مونږ (مملوک) د الله يو، او بېشکه مونږ هم دغه (الله ته) بيا ورتلونکي يو (په آخرت کې)، دغه کسان په هم دوی ده ثناء او صفت او په نېکه يادونه (له طرفه د) رب د دوی، او مهرباني ده، او دغه کسان هم دوی دي سمه لاره موندونکي (حق ته).

تفسير: د ﴿صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ﴾ مراد: د الله تعالى لخوا ثناء ويل، د هغه نوم ننبان پورته کول، اوچتول، او ځان ته نژدې کول دي، لکه په جلاء الأفهام لابن القيم کې چې راغلي دي (ص٧٨).

إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَائِرِ اللَّهِ ۖ

بېشکه صفا او مروه (چې په مکه کې دوه غرونه دي) له ننبو (د عبادته) د الله ځنې دي.

تفسير: مخکې د قبلې د تحويل او په نورو قبلو باندې د کعبې د افضليت ذکر وو، اوس دهغه د محل او د حج او عمرې د ادا کولو ذکر فرمايي؛ ځو چې د ﴿وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِي عَلَيْكُمْ﴾ تصديق او تکميل په ښه ډول سره وشي، يا دا چې پخوا له دې يې د صبر د فضيلت ذکر وفرمايه، اوس فرمايي: وګورئ ! صفا او مروه چې په (شعائر الله) کې داخل دي، او په حج او عمره کې د دوی په منځ کې له دې سببه «سعي» کول ضروري دي، چې همدا د صابرينو يعنې «بي بي هاجرې» د ځوی «اسماعيل» عليهما السلام لـه آثارو ځنې دي.

فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَا ۚ وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٥٨﴾

نو هر څوک چې (اراده د) حج وکړي د بيت الله يا (اراده د) عمري (وکړي) نو نشته هيڅ ګناه په ده باندې چې طواف وکړي په دې دواړو، (يعنې ددواړو ترمنځ سعي وکړي) او هر څوک چې وکړي په خپله خوښه څه نيکي نو بېشکه الله شکر قبلوونکی، ښه عالم دی.

تفسير: «صفا» او «مروه» په مکه معظمه کې دوه غرونه دي، د مکې خلق د ابراهيم(على نبينا وعليه الصلاة والسلام) له زمانې راهيسې همېشه حجونه کوي، او د حج کولو په وخت کې د دغو غرونو تر منځ سعي کوي، د کفر په زمانه کې کافرانو په دغو غرونو دوه بتان درولي وو، چې د هغو تعظيم به يې کاوه، او داسې به يې ګڼل، چې دا طواف

او سعي د هغو دواړو د تعظيم لپاره دی، کله چې د اسلام پاک دين خپور (خور) شو، او خلق له بت پرستۍ ځنې تائب شول؛ نو داسې خيال وشو، چې د «صفا» او «مروه» طواف د هغو بتانو د تعظيم لپاره وو، نو ځرنګه چې د بتانو تعظيم حرام شو، نو ښايي چې د «صفا» او «مروه» تعظيم هم ممنوع شي، ځکه چې دا خبره هغوی ته معلومه نه وه، چې د «صفا» او «مروه» طواف په اصل کې د حج لپاره وو، او کفارو که له خپله جهالته پر دوی باندې بتان درولي وو؛ هغه ترې لرې کړل شول، کله چې د مدينې منورې انصارو د کفر په زمانه کې هم د «صفا» او «مروه» طواف بد ګڼه، نو داسلام په زمانه کې هم دوی ته د هغوی د طواف په نسبت څه اندېښنه پيدا شوه، او د رسول الله مبارک څخه يې په دې باره کې داسې هدايت وغوښت «مونږ پخوا د «صفا» او «مروه» طواف نه کاوه، او س د هغه په نسبت څه هدايت راکوئ؟» په دې مناسبت دا آيت نازل شو، او دواړو فرقو ته دا وروښوول شول؛ چې د «صفا» او «مروه» تر منځ به سعي طواف کې کومه ګناه او خرابي نشته، بلکه دا په اصل کې د الله تعالى ننبې دي، او د هغوی طواف کول په کار دي.

إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَىٰ مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ

بېشکه هغه کسان چې پټوي (دوی له خلقو څخه) هغه شی چې نازل کړی دی مونږ له ښکاره وو (احکامو او واضحو دلائلو) او د هدايت (خبرې) پس له هغه چې بيان کړي دي مونږ هغه لپاره د خلقو (يعنې بني اسرائيلو) په کتاب (تورات) کې.

تفسير: له دغو خلقو څخه يهودان مراد دي، چې دوی د رسول الله صلى الله عليه وسلم د رسالت تصديق او د قبلې د تحويل خبره او نور چې په په تورات کې وو؛ پټول، او همدا راز هغه کسان چې د دنيوي اغراضو له امله يې د پاک الله حکمونه پټول، هغوی هم د دغه آيت په حکم کې داخل دي.

أُولَٰئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ

دغه کسان چې دي لرې کوي دوی لره الله له رحمت خپل، او لعنت وايي پر دوی لعنت ويونکي (له پرښتو، انسانانو، پيريانو، او نورو مخلوقاتو).

تفسير: لعنت کوونکي له جنياتو، انسانانو، ملائکو، بلکه له ټولو ذي روحو شيانو څخه عبارت دی، ځکه چې د دوی د حق پټولو له وباله په عالم (نړۍ) کې قحط، وبا، طاعون، او نورې راز راز بلاګانې خپرېږي (خوريږي)، نو له دې سببه: نه يوائې حيواناتو ته، بلکه تر جماداتو پورې هم تکليف او صدمه ورپېښېږي، نو ځکه ټول کائنات پر دوی باندې لعنت کوي.

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَبَيَّنُوا فَأُولَٰئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيمُ

مګر هغه کسان چې ښېرته وګرځېدل (له شرکه او پټولو د نعمت)، او نېک يې کړ عمل خپل، او بيان يې کړه (حقه خبره) نو دغه کسان (چې دي) رجوع به وکړم زه په رحمت سره په دوی باندې، او همدا زه ښه توبه قبلوونکی، پوره رحم کوونکی يم (دتوبې په منلو او د رحمت په نزول).

تفسير: يعنې که څه هم د دوی د حق پټولو له امله ځينې خلق په ګمراهۍ کې لويږي، خو کله چې دوی د حق پټولو څخه توبه وباسي، او د حق اظهار په ښه ډول سره وکړي، نو مونږ د لعنت پر ځای په هغوی باندې خپل رحمت نازلوو، ځکه چې مونږ تواب او رحيم يو.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١٦١﴾

بېشكه هغه كسان چې كافران شي او مړه شوي دي حال دا چې دوی كافران وو (په وخت د مړ ځ كې)؛ دغه كسان (چې دي) پر دوی باندې دی لعنت د الله او (لعنت) د ملائكو او (لعنت) د خلقو ټولو (يعنې د ټولو هغو مخلوقاتو چې لعنت ته يې اهميت ورکاوه شي).

تفسير: يعنې هغه څوک چې پخپله حق پټ کړي، يا د بل چا د حق پټولو له سببه ګمراه شي، او تر آخره پورې کافر پاتې شي، او توبه يې په برخه نه شي، نو هغه تل ملعون او جهنمي دی، وروسته له مړ ځ د هغه توبه نه قبلېږي.

خَالِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿١٦٢﴾

حال دا چې همېشه به وي دوی په لعنت (يا اور) کې، نه به سپکاوه شي له دوی څخې عذاب، او نه به دوی ته مهلت ورکړ شي (د توبې، يا به په رحمت سره ورته نه کتل کېږي).

تفسير: يعنې په دوی باندې به عذاب يو رنګ او دوام لرونکی وي، او داسې به نه کېږي چې د دوی په عذاب کې څه لږوالی پېښېږي، يا کومه شېبه به د هغوی عذاب لرې کېږي.

وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٣﴾

او معبود ستاسې معبود يو دی، نشته بل څوک لايق د عبادت مګر همدی خورا (ډېر) مهربانه پوره رحم کوونکی دی.

تفسير: يعنې ستاسې د ټولو حقيقي معبود داسې يو ذات دی، چې د تعدد احتمالات له سره په کې نشته، نو هر هغه څوک چې د هغه له احکامو څخې سر غړوي، هغه بېخي مردود او تباه دی.

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿١٦٤﴾

بېشكه په پيدا كولو د آسمانو او (په پيدا كولو) د ځمكې كې، او په اختلاف د شپې او د ورځې كې (چې اوږدېږي، لنډېږي پر له پسې رڼا او تياره راځي، يخېږي او ګرمېږي)، او په بېړيو هغو كې چې رواني وي په درياب كې، په هغه سره چې فائده رسوي خلقو ته، او په هغه څه كې چې نازلې كړي دي الله لـه (طرفـه د) آسمانه له اوبو ځنې، نو ژوندی (زرغونه) كړي يې ده په هغو (اوبو) سره ځمكه وروسته د مړ ځ (وچوالی) د هغې، او خپاره (خواره) كړي يې دي په دې ځمكه كې له هر قسمه خوځېدونكو (حيواناتو) څخه، او په ګرځولو (بدلولو) د بادو كې، او په هغې وربځې چې مسخّره كړی شوې ده په مينځ د اسمان او د ځمكې كې، خامخا دليلونه دي (په وحدانيت د الله باندې) لپاره د هغه قوم چې د عقل څښتنان (خاوندان) دي.

فائدة: په ﴿لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ كې دالوهيت او عبادت د توحيد ، او په ﴿الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ﴾ كې د صفاتو، ثبوت دی، او په ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ﴾ الآيه - كې د ربوبيت د توحيد ثبوت دی، چې ددغو ستاينو او صفاتو په سبب د مشركانو ټولې شبهې په كلي ډول سره رد شوې.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا

اوځينې له خلقو څخه هغه څوک دي چې نيسي بې له الله څخه شريکان (په عبادت کې).

تفسير: يعنې په بنيادمانو کې چې په عقل او شعور کې له ټولو مخلوقاتوځنې افضل دي، ځينې داسې هم دي، چې سره له ښکاره او سابقه دلائلو بيا هم غير له الله تعالى ځنې نور شيان د حق تعالى سره په عبادت کې شريک ګڼي، او د ده جل جلاله سره يې برابروي.

يُحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِ ؕ

چې مينه او محبت کوي دوی د هغوی سره لکه چې مينه کوي د الله سره.

تفسير: يعنې يواځې په اقوالو او اعمالو کې خپل شريکان د حق تعالى سره نه برابروي، لکه آن تر قلبي محبت پورې چې د اعمالو د صدور اصل او اساس دی، د دوی شرک او مساوات رسيدلی دی، چې د شرک اعلى درجه ده، او شرک في الأعمال د هغه فرعه او تابع دی.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ؕ

او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، ډېر ټينګ دي له جهته د مينې له الله سره.

تفسير: يعنې هغه محبت چې مشرکين يې له خپلو باطلو معبودانو سره لري، مؤمنان له هغه ځنې خورا زياته مينه له الله تعالى سره لري، ځکه چې د مشرکانو مينه ددنيا په مصائبو کې زائليږي، او د آخرت د عذاب د ليدلو په اثر دوی له خپلو باطلو معبودانو ځنې بيخي بېزاره کيږي، لکه چې په وروستي آيت کې راځي، بالعکس د مؤمنانو محبت او مينه له خپل پاک الله سره په راحت او مصيبت، روغتيا او ناروغتيا، په دنيا او آخرت، په پټه او ښکاره کې برابره، او هيڅ تغيير نه مومي، او تل دوامداره او باقي وي، او هم هغه محبت چې اهل الايمان يې له الله تعالى سره لري، له هغه محبت ځنې خورا ډېر او زيات دی؛ چې مؤمنان يې له ما سوى الله يعنې انبياوو، اولياوو، ملائکو، عابدانو، صالحانو، علماوو، فضلاوو، آباوو، اجدادو، اموالو، اولادونو، ښځو، دوستانو، دنيا او ما فيها سره لري، ځکه چې مؤمنان له الله تعالى سره د هغه د عظمت او شان سره سم بالأصاله او بالاستقلال مينه او محبت لري، او له نورو سره بالواسطه، او د حق تعالى له حکم سره سم له هر يوه سره د هغه د مرتبې او مقام په مېچ (اندازه) مينه کوي.

هو ! د الله تعالى او د ما سوى الله جل جلاله په محبت اومينه کې مساوات او برابري کول، که هر څومره هغه لوی سړی هم وي، نو خالص شرک او د مشرکانو کار دی.

په تعظيم ادب کې زيار کاږي صديق *** د رتبې نه کوي فرق چېرې زنديق

وَلَوْ يَرَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ ۙ اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعَذَابِ ﴿١٦٥﴾

او که ووينې هغه کسان چې ظلم يې کړی دی (په خپلو نفسونو په شرک سره) په هغه وخت کې چې ووينې دوی عذاب (هلته به وپوهيږي) چې بېشکه ټول قوت خاص الله لره دی ، او بېشکه چې الله سخت عذاب ورکوونکی دی (نو د الله تعالى پرته د بل چا عبادت به يې نه کاوه).

اِذْ تَبَرَّاَ الَّذِيْنَ اتُّبِعُوْا مِنَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا وَرَاَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْاَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾

کله چې بېزاره شي هغه کسان چې متبوعان (مشران) دي؛ له هغو کسانو څخه چې تابعان (او کشران) دي، او ووينې دوی عذاب، او منقطع (غوځ) شي په دوی (هغه ټول) اسبابونه (د خپلوی علايق).

وَقَالَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوا مِنَّا ۗ

او وايي هغه کسان چې تابعان وو: کاشکې وای مونږ لره بيا ورتلل (دنيا ته) نو بېزاره به شو مونږ له دې متبوعانو څخه، لکه چې بېزاره شوي دي دوی له مونږ څخې.

كَذَٰلِكَ يُرِيهِمُ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ عَلَيْهِمْ ۖ وَمَا هُم بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ ﴿١٦٧﴾

همداسې (لکه چې وښوده پاک الله دوی ته د عذاب سختي او د يوه بل نه بېزاري) وبه ښيي دوی ته الله (ناکاره) عملونه د دوی افسوسونه په دوی باندې، او نه به وي دوی وتونکي هيڅېرې له اور (د دوزخ) نه.

تفسير: يعنې د هغوی ښې او بدې چارې ټولې د حسرت او ارمان موجبات کيږي، او له هيڅ عمل څخې به دوی ته هيڅ يوه ګټه او فائده ونه رسيږي، او تل به په دوزخ کې اوسيږي، بالمقابل موحدين او د ايمان خاوندان که د خپلو ګناهونو له سببه دوزخ ته لاړ هم شي؛ په پای (آخر) کې ترې ووځي، او د خپلو ښو چارو ښه بدل مومي.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ۚ

اى خلکو ! خورئ تاسې له (ځينو هغو) شيانو څخه چې په ځمکه کې دي، حلال پاک (بې شبهې)، او پيروي مه کوئ تاسې د (اثر د) قدمونو د شيطان ! (شيطان پسې مه ځئ، او دده په وسوسه د هوی او هوس متابعت مه کوئ).

تفسير: عربانو به بت پرستي کوله، او د بتانو په نامه به يې حيوانات سرخوشې ايله (آزاد) پرېښودل، او له هغو ايله خوشې شويو حيواناتو څخې به يې ګټه او فائده اخيستل حرام ګڼل، چې دا هم يو راز شرک دی، ځکه چې د حلال او حرام تاکل او ټاکل دالله تعالى کار دی، او پرته (بغير) له الله تعالى څخې په داسې کارونو کې د بل چا خبرې ګواکې شرک ته تمايل او ترجيح ده، نو له همدې سببه يې په لومړني آيت کې د شرک خرابي بيان کړه، اوس د حلال د تحريم څخې ممانعت فرمايي، چې خلاصه او لنډه يې داده: هر هغه شی چې په ځمکه کې پيدا کيږي، تاسې له هغه څخې خورئ !، په دې شرط چې شرعا حلال، طيب، او روا وي، يعنې نه (في نفسه) حرام وي، لکه مرداره او خنزير، او ﴿مَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيْرِ ٱللَّهِ﴾ يعنې هغه ساکنان (ذي روح) چې د هغو د حلالولو په وخت کې پرته د الله تعالى له نامه څخې د بل چا نوم پرې ويلى شوی وي، او د هغو له حلالولو څخې يې غير الله ته قربت مقصود وي، او نه کوم عارضي امر له سببه په هغه کې حرمت پيدا شوی وي، لکه د غصب، غلا، رشوت، او د سود مالونه، چې له دغو ټولو څخې اجتناب او ځان ساتل ضروري دي، او دشيطان پيروي هيڅکله مه کړئ ! چې په خپل سر هر شي چې مو زړه غواړي؛ حلال يې وګڼئ لکه ﴿وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيْرِ ٱللَّهِ﴾ او هر شی چې مو زړه غواړي حرام يې وبولئ لکه (بحيره، سائبه، وصيله، او حام).

إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿١٦٨﴾ إِنَّمَا يَأْمُرُكُم بِالسُّوءِ وَالْفَحْشَاءِ وَأَن تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿١٦٩﴾

بېشکه چې شيطان تاسې لره دښمن دی ښکاره. بېشکه همدا خبره ده چې حکم کوي شيطان تاسې ته په بد او قبيح کار سره (چې عقلا او نقلا منفور وي)، او (امر کوي تاسو ته) چې ووايئ تاسې په الله هغه خبرې چې تاسې پرې نه پوهېږئ.

تفسير: يعنې مسئلې او شرعي احکام له خپل لورې جوړوئ، لکه چې په ډېرو ځايو کې ليده کيږي، چې سربېره پر جزئي امورو، په اعتقادي امورو کې هم له شرعي نصوصو څخه سترګې پټوئ، او له خپله ځانه نوي حکمونه جوړوئ، او په قطعي نصوصو او د سلفو په اقوالو کې تحريفونه، اړول راړول کوئ.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ۚ أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٧٠﴾

او کله چې وویل شي دوی ته چې: پیروي وکړئ تاسې د هغه حکم چې نازل کړی دی الله (چې قرآن او سنت دی) نو وایي (چې د قرآن پیروي نه کوو) بلکه پیروي کوو د هغه حکم چې موندلي دي مونږ په هغه پلرونه خپل (آیا دوی د خپلو پلرونو متابعت کوي؟) اګر که وو پلرونه د دوی چې نه پوهېدل په هیڅ شي (د دین له احکامو څخه) او نه یې لاره موندلې وه (حق ته).

تفسیر: یعنې دوی وایي چې د حق تعالی د احکامو په مقابل کې، د خپلو پلرونو او نیکونو پیروي او متابعت کوو، او دا هم شرک دی، لکه چې ځینې ناپوهه مسلمانان د کونډو په نکاح او د ښځو د میراث په نسبت او نورو باطلو رسومو کې هم داسې خبرې کوي، او ځینې که څه هم په ژبه داسې چتې (بېکاره) او فضولې خبرې نه کوي، مګر د هغوی له عمل څخه دا خبرې ښکاره او څرګندیږي، حال دا چې داسې اقوال او افعال داسلام له اصولو چپ او مخالف دي.

وَمَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا كَمَثَلِ الَّذِي يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ إِلَّا دُعَاءً وَنِدَاءً ۚ

او حال د هغو کسانو چې کافران شوي دي (او حق پرست یې حق ته رابلې) لکه حال د هغه چا دی چې ناري وهي هسې یو شي ته، چې نه اورې هیڅ مګر تشه بلنه او غږ.

تفسیر: یعنې هدایت ته د کافرانو رابلل داسې دي لکه چې کوم شپون (شپونکی) یا غوبه څریدونکو ساکښانو (ذي روحو) ته په بیدیا کې ناري وهي، چې هغوی پرته له آوازه بل په هیڅ شي نه پوهیږي، همدارنګه حال د کافرانو دی، چې نه دوی پخپله پوهیږي، او نه د پوهانو او عالمانو خبرې مني.

صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٧١﴾

(دوی) کاڼه دي، ګونګیان دي، ړانده دي، نو دوی هیڅ عقل نه لري (چې حق ته لاره ومومئ).

تفسیر: یعنې دا کافران کاڼه دي، چې د حق خبرې بیخي نه اوري، او ګونګیان دي، چې د حق خبرې نه وایي، او ړانده دي، چې سمه لار نه وینې، لنډه یې دا چې: دوی په هیڅ شي نه پوهیږي، ځکه چې د دوی دا درې حواس او قوي فاسدې شوي دي، نو د علم تحصیل، او د پوهې زده کول به څرنګه صورت ومومئ؟.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿١٧٢﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی ! (یعنې ای مؤمنانو) خورئ تاسې ! له پاکو حلالو هغوشیانو چې درکړي دي مونږ تاسې ته، او شکر وباسئ ! الله لره (په دغو حلالو شیانو) که چېرې یئ تاسې چې خاص ده لره عبادت کوئ.

تفسیر: اوس پاک الله له کافرو څخه اعراض وفرمایه، او په خاصه توګه یې مسلمانانو ته توجه وکړه، او دوی یې مأمور کړل چې له روا او بې شبهې پاکو شیانو ځنې وخوري !، او خپل انعام یې ښکاره کړ، او د شکر د ادا کولو امر یې وفرمایه.

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ

بېشکه همدا خبره ده چې حرام کړي دي (الله) په تاسې باندې (خوراک) د مرداري.

تفسير: مرداره هغه ده چې دا په خپل سر ومري، يعنې حلال نه شي، يا له شرعي طريقې ځنې پرته حلال يا ښکار کړای شي، لکه چې زندۍ کړی شي، يا د کوم ژوندي ساکښ (ذي روح) کومه عضوه (غړی) پرې کړی شي، يا په لړکي، تيږې، او توپک سره وويشتل شي، يا له پاسه ولويږي او مړ شي، يا د بل کوم حيوان د ښکر د وهلو په اثر مړ شي، يا يې کوم داړونکی يا ځيروونکی ځناور وداړي، يا يې وځيري، يا د حلالولو په وخت کې قصدا پرې تکبير ونه وايي او مړ شي، دا ټول سره په مردارو کې داخل او حرام دي، البته دوه ساکښان (ذي روح) بې له ذبحې مونږ ته حلال دي، چې کب (ماهي) او ملخ دي، او د استثناء دا امر هم د رسول اکرم صلى الله عليه وآله وأصحابه وسلم د حديث په موجب شوی دی.

وَالدَّمَ

او (حرام کړی دی الله خوراک د) وينې (بهېدونکې).

تفسير: له وينې څخه مراد هغه وينه ده چې له رګو ځنې وبهېږي، او د ذبحې په وخت کې داړې ووهي، او راووځي، پاتې شوه هغه وينه چې په غوښه کې وي، يا ور پورې لګېدلې وي، هغه ناروا نه ده، بلکه حلاله او پاکه ګڼل کېږي، نو که څوک کله غوښه بې له مينځلو (وينځلو) پخه کړي، خوراک يې ناروا نه دی، خو دنظافت او سپېڅلتيا (پاکی) له اصولو ځنې لرې کار دی، د «يني» او «توري» (چې ترڅې شوې وينې دي) خوراک د رسول اکرم صلى الله عليه وآله وأصحابه وسلم د حديث په موجب حلال او روا شوي دي.

وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ

او (حرام کړی دی الله خوراک د) غوښې د خنزير.

تفسير: خنزير ژوندی وي که مړ، له شرعي قاعدې سره سم حلال شوی وي که نه، په هر صورت سره قطعا حرام دی، او د خنزير ټول اجزا لکه غوښه، پوستکی، هډوکي، ويښتان، نوکان، پلې، غړي، وازده، او نور ټول ناپاک دي، او له هغوی ځنې فائده او کار اخيستل ناروا او حرام دی.

کله چې په دې ځای کې د خوراکي شيانو ذکر دی نو ځکه يوائې د غوښې حکم راښودلی شوی دی، مګر په دی خبره باندې د ټول امت اجماع ده، چې خنزير بېشکه «نجس العين» دی، ځکه چې په بېغيرتي، بې حيايی، او په حرص او نجاستونو ته په رغبت کې له ټولو ساکښانو (ذي روحو) ځنې وړاندې دی، او له همدې امله الله تعالى د خنزير په نسبت فرمايي: ﴿فَإِنَّهُۥ رِجْسٌ﴾ نو د هغه هيڅ يو جز نه پاک دی، او نه د هيڅ قسم فائدې اخيستلو وړ دی، هغه کسان چې د خنزير غوښې ډېرې خوري، يا يې له نورو اجزاوو ځنې فائدې اخلي، په هغو کې هم د خنزير رذيله افعال ډېر په واضح ډول سره ليدل کېږي.

وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيْرِ ٱللَّهِ

او (حرام کړی دی الله خوراک د) هر هغه حلال کړی شوی چې آواز کړی شوی وي په هغه باندې (په وخت د ذبحې کې) بې له پاک الله.

تفسير: له ﴿وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيْرِ ٱللَّهِ﴾ ځنې دا مطلب دی چې: پر دې ساکښانو (ذي روحو) باندې پرته د الله تعالى له نامه د بل کوم بت يا بل شي نوم واخيستل شي، يعنې پرته د الله تعالى له نامه دکوم بت، جن، خبيث روح، پير، مرشد، نبي، يا دنورو په نامه وټاکي (مقرر کړي)، او د هغه ساکښ (جاندار) روح هغه ته نذر کړي، د هغه د تقرب يا رضا غوښتنې په نيت يې ذبح کړي، او محض د ده دخوښۍ په غرض يې د هغه ساکښ (جاندار) ساه اخيستل مقصود وي، نو ددې ټولو

حيواناتو د غوښو خوړل حرام دي، که څه هم د دوی د ذبحې په وخت کې تکبير هم وويل شي، او د الله تعالی لوی نوم هم پرې واخيستل شي، ځکه چې پرته د روح له پيدا کوونکي څخه بل چا ته د روح نذر او نياز کول له سره درست نه دی، نو د هر جاندار روح چې «غير الله» ته نذر کړی شي، د هغه د مرداری او خباثت مرتبه د مردارې له خباثت ځنې زياته ده، ځکه چې په مرداره کې فقط دومره خرابي شته، چې د هغه روح د پاک الله په نامه نه دی وتلی، او دلته د هغه روح د غير الله په نامه نذر شوی دی، چې عين شرک دی، هماغسې چې خنځير او سپی د ذبحې په وخت کې د تکبير ويلو له امله نه حلاليږي، په مرداره باندې هم د الله تعالی د نامه له ويلو ځنې څه فايده نه حاصليږي، همداسې د هر جاندار روح چې غير الله ته نذر شي، يا يې په نامه کړی وي، نو د ذبحې په وخت کې په هغه باندې د الله تعالی د نامه له اخيستلو ځنې له سره هيڅ فايده نه حاصليږي، او نه حلال کيدای شي، که د غير الله په نامه باندې له ټاکلو څخه وروسته نذر کوونکی له خپل دې نيت ځنې رجوع او ترې توبه وکړي، او بيا يې ذبحه کړي، نو د هغه په حلالوالي کې هيڅ شک او شبهه نه پاتې کيږي.

عالمانو تصريح فرمايلي دي: که د کوم پاچا د راتګ په وخت کې د تعظيم په نيت ساکښ (ذي روح) ذبح کړ شي، يا د کوم جن (پيري) له اذيت څخه د نجات له امله، د هغه په نامه کوم ذي روح حلال کړ شي، يا د توپ ويشتلو، يا د نذر پخولو، يا د کوم نياز ورکولو په وخت کې ساکښ (ذي روح) ذبح کړ شي، اګر که د ذبحې په وخت کې د الله تعالی نوم هم پرې ياد کړی شي، دا جاندار بيخي مردار او حرام او فاعل يې سخت ګناهګار دی.

په حديث شريف کې هم راغلي دي: «لعن الله من ذبح لغير الله» يعنې په هغه چا د پاک الله لعنت دی چې غير الله ته د تقرب او تعظيم په نيت ذي روح ذبح کړي؛ که د ذبحې په وخت کې د الله تعالی نوم پرې ياد کړي، يا يې ياد نه کړي، هو ! په دې کې هيڅ حرج نشته چې ذي روح د الله تعالی په نوم ذبح، او د هغه غوښه فقيرانو ته ورکړي، او ثواب يې کوم قريب ته وروبخښل شي، ځينی کاږه تلونکي په هسې مواقعو کې داسې پلمې جوړوي چه دپيرانو او نورو په نيازونو او نذرونو کې زمونږ مقصود دادی چې فقيران ماړه شي، او ثواب يې مړو ته صدقه شي، نو لومړی بايد دوی وپوهيږي چه دالله تعالی په مخکې داسې پلمې پرته له ريا نه بل څه نفع نه رسوي، دوهم داچې که ددغه نذر شوي حيوان پر ځای هغو سره غوښه واخيستل شې، او فقيرانو ته ورکړل شې او يا هم ورباندې پخه وخوړل شي نو دغه خيرات او صدقه به پرې ادا شي آيا دا ښه کار نه دی.

فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ

نو هغه څوک چې اړ (ضرورتمند) شي (د دې حرامو خوړلو ته) حال دا چې نه ظلم کوونکی او نه تجاوز کوونکی وي (له قدر د کفافه) نو نشته ګناه په ده باندې.

تفسير: يعنې دا ذکر شوي شيان خو حرام دي، مګر که څوک د لوږې له امله مړګ ته نږدې شوی وي، او د ناچاری په وخت کې يې وخوري، په داسې سړي باندې هيڅ ممانعت نشته، په دې شرط چې هيڅ نافرماني او زياتوالی ونه کړي، نا فرماني داده چې: د اضطرار او ناچاری له پښيدلو څخه پخوا د هغو د خوړلو لپاره ملا وترې. زياتوالی دا دی چې د ضرورت له اندازې ځنې ډېر وخوري، او خپله ګټه ښه پرې وپرسوي، بلکه ښايي چې دومره وخوري، چې ونه مري، او يا يې هم له ځان سره زخيره او بل وخت ته وساتی.

إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ

بېشکه چې الله لوی بخښونکی پوره رحم کوونکی دی.

تفسير: يعني پاک الله ډېر لوی بخښونکی دی، د بندګانو هر راز ګناهونه بخښي، نو بیا به نو ددې ناچار او مضطر سړي ګناه ولې نه بخښي؟ !، او په خپلو بندګانو باندې ډېر مهربانه دی، چې د مجبورۍ په حالت کې یې دوی ته ښکاره اجازه ورکړې ده.

إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ الْكِتَابِ

بېشکه هغه کسان چې پټوي (دوی) هغه څه چې نازل کړي دي الله چې کتاب دی.

تفسير: يعني هغه حکمونه چې الله تعالی د حلالو او حرامو په نسبت نازل کړي دي، يهودانو پټ کړل، او له خپل لوري يې په هغو کې زياتوالی او کموالی وکړ، لکه چې په پخواني آيت کې ذکر شو، همداسې د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه صفتونه چې په آسماني کتابونو کې ليکلي شوي وو، دوی پټ کړل، او په خپله خوښه يې تغيير په کې وکړ، چې دا دواړه لويه ګناه ده.

وَيَشْتَرُونَ بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا

او دوی (اخلي) د پټولو په عوض کې قيمت لږ.

تفسير: يعني د الله تعالی په نافرمانۍ او د خلق الله په ګمراهۍ باندې يې بسوالۍ ونه کړ، بلکه د هغه حق پټولو په عوض کې به يې له هغو کسانو څخې چې د ګمراهۍ په کندو کې يې غورځول؛ رشوت او بډې هم اخيستلې، او په هغو مالونو باندې به يې د هديې، نذرانې، او شکرانې نومونه ايښودل، حال دا چې داسې حرامخوري د مردارو او د خنزيرو د خوړلو څخې هم ډېره بده ده، نو اوس ښکاره ده چې د هسې بدو حرکاتو سزا هم خورا (ډېره) سخته ده، لکه چې وروسته بيانيږي.

أُولَٰئِكَ مَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ إِلَّا النَّارَ

نو دغه کسان (چې د حق پټوونکي دي) نه خوري (نه اچوي دوی) په ګېډو خپلو کې مګر اور (د دوزخ او د اور موجبات).

وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

او نه به خبرې وکړي له دوی سره الله په ورځ د قيامت کې (په خوښۍ سره).

تفسير: له دې آيت څخې داسې شبهه لوېدی شي، چې له نورو آيتو څخه هسې ښکاري چې الله تعالی به د قيامت په ورځ کې له دوی سره کلام کوي، نو دلته د کلام له نه کولو څخه مطلب څه دی؟ جواب: يعني د لطف او مرحمت کلام به له دوی سره نه کوي، او د تخويف، تذليل، تهديد، او وعيد په ډول به له دوی سره غږيږي، چې له دې غږېدلو څخې به دوی ته ډېر ربړ او تکليف پېښيږي.

وَلَا يُزَكِّيهِمْ

او نه به پاک کړي (الله) دوی (له کفره).

تفسير: يعني اهل د ايمان هر څومره چې ګناهګار وي، نو بيا هم په دوزخ کې د خپلې ګناه په اندازه يوه ټاکلې موده تېروي، او هر کله چې له ګناه څخه پاک شي، خامخا جنت ته داخليږي، پرته له کفارو چې هغوی تل تر تله په اور کې پاتې کيږي، او بيخي نه پاکيږي، او د جنت د داخلېدلو وړ او لايق نه ګرځي، ځکه چې دوی د شرکيه امورو په سبب

داسې «نجس العين» ګرځېدلي وي، چې هغه نجاست په هيڅ ډول له دوی ځنې نه جلا (جدا) کيږي، او د عاصي مسلمان حال داسې وګڼئ ! لکه چې په يوه پاک شي نجاست لوېدلی وي، هر کله چې هغه زايل شي، نو هغه شي بيا پاکيږي.

وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٥﴾

او دی دوی لره عذاب دردناک.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ بِالْهُدَىٰ وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ۚ

دوی هغه کسان دي چې پېرودلي (اخيستي) (غوره کړې) يې ده ګمراهي په بدل د هدايت، او عذاب په بدل د مغفرت کې.

فَمَا أَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ ﴿١٧٥﴾

نو (ځای د تعجب دی چې) څومره صبر کوونکي دي دوی (يعنې کفار) په اور (د دوزخ).

تفسير: يعنې په خپله خوښه د اور د ننوتلو موجبات اختياروي، ګواکې اور د دوی په نېز دومره ډېر مرغوب او محبوب دی، چې په خپلو ځانونو او مالونو يې اخلي، که نه په دې خبره باندې خو هر څوک پوهيږي چې د اور په عذاب باندې صبر کول څرنګه دی؟ .

ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ نَزَّلَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ ۗ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِي الْكِتَابِ لَفِي شِقَاقٍ بَعِيدٍ ﴿١٧٦﴾

دا (عذاب دوی لره) ځکه دی چې بېشکه الله نازل کړی دی کتاب په رښتيا سره، او بېشکه هغه کسان چې اختلاف يې کړی دی په کتاب کې خامخا په (هسې) مخالفت کې دي (چې له حقه) لري دي.

لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ

نه ده نيکي (يواځې دا کار) چې وګرځوئ مخونه خپل (په لمانځه کې) طرف د مشرق يا مغرب ته.

تفسير: «غوره او ښه نيکي چې د مغفرت او هدايت لپاره کافي وي، يواځې دا نه ده، چې تاسې تش خپل مخونه په لمانځه کې د مشرق يا مغرب په لوري وګرځوي، او د صحيحو عقايدو او ضروري اعمالو بيخي پروا ونه کړئ».

وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ ۚ وَآتَى الْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ ۙ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ ۖ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ ۚ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا ۖ وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ ۗ

وليکن غوره نيکي (نيکي) د هغه چا ده چې ايمان يې راوړی وي په پاک الله او (ايمان يې راوړی وي) په ورځ آخري، او په (ټولو) پرښتو، او په (ټولو) کتابو، او (ايمان يې راوړی وي) په (واړو) انبياوو، او ورکوي (خپل) مال سره د محبت د مال نه (فقيرانو) خپلوانو ته، او (ورکوي) خپل مال (فقيرانو) يتيمانو ته او مسکينانو ته، او (ورکوي خپل مال) مسافرانو ته او نادارو سوالګرو ته، او په آزادولو (د مريو) کې، او سم دروي (په ترتيب ادا کوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ (خپل)،

او ورکوي زکات، او (بل خاوند دنېکی) وفا کوونکی دی په وعدو خپلو کله چې دوی وعده کوي (له خالق یا له مخلوق سره)، او (صفت کوو د) صبر کوونکو په سختیو او په رنځونو کې او په وخت د جنګ (په لاره د پاک الله) کې.

تفسیر: یعنې هغه نیکي او ښېګڼه دهدایت او مغفرت سبب کیدای شي چې په ټولو ایمانیاتو ایمان ولري، او هم ددین نور ارکان پر ځای کړي.

کله چې یهودان او نصرانیانو په دغو ښو عقایدو، اعمالو او اخلاقو کې قاصر او ناقص وو، او په راز راز ډولو یې په دې ستایلو صفاتو کې خلل او نقصان پېښاوه، لکه چې په قرآني آیتونو کې دغه ذکر شته، نو اوس که یهودان او نصرانیان یواځې د قبلې په استقبال باندې نازیږي، او خپل ځانونه د هدایت په طریقې باندې مستقیم ګڼي، او ځانونه د مغفرت لایق بولي، نو دا د هغوی ناپوهي او چټې (بېکاره) خیال دی، تر هغه پورې چې دا کتابیان په دغو انتقاداتو، اخلاقو او اعمالو چې په دې کریمه آیت کې مفصلا ذکر شوي دي ټینګ ونه درېږي، او عمل پرې ونه کړي، یواځې د قبلې له استقبال څخه هغوی ته هدایت نه په برخه کیږي، او نه د الله تعالی له عذابه څخه نجات مومي.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾

او دغه (ستایلي شوي) هغه خلک دي چې صداقت یې کړی دی (په دین، متابعت دحق، او غوښتنې د نېکی کې) او دغه کسان همدوی دي پرهېزګاران (ځان ساتونکي له ناوړو (بدو) اعمالو څخه).

تفسیر: یعنې هغه خلک چې په ذکر شویو اعمالو، اخلاقو او اعتقاداتو سره متصف دي، همدغه خلک په اعتقاداتو، ایمان او دین کې، یا په خپل قول او اقرار کې، یا په خپلواخلاقو او اعمالو کې رښتوني دي، یا له ګناه او خرابو خبرو ځنې، یا د الله تعالی له عذاب څخه ځان ژغورونکي (ساتونکي) دي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى ۖ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو !) فرض کړی شوی دی په تاسو باندې قصاص (برابروالی) په وژلي شویو کې (که عمدا وي).

تفسیر: د جاهلیت په زمانه کې په عربو او یهودانو کې داسې دستور وو، چې د شریف النسب کسانو د وژل شویو غلامانو په بدل کې به یې د کمزور نسبه خلقو آزاد سړی، او د شریفانو د وژل شویو ښځو په بدل کې به یې نارینه، او د یو آزاد شریف سړي په بدل کې به یې دوه تنه قصاصول او وژل، نو پاک الله په دې آیت کې داسې حکم و فرمایه چې: «ای ایمان لرونکو ! مونږ په تاسې باندې په مقتولینو کې برابري او قصاص فرض کړی دی»، د «قصاص» معنی په لغت کې برابري او مساوات دی، نو دا دستور چې تاسې له ځانه ایستلی دی، چې د شریف نسب او د کمزوری نسب په منځ کې فرق کوئ، خوشې او فضول کار دی.

فائده: په ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى ۖ﴾ کې اشاره ده، چې یهودان او نور کسان چې په کوم دستور باندې په قصاص عمل کوي، هغه د دوی بې بنیاده ایجاد دی، چې د الله تعالی له احکامو ځنې بېخي چپ (غلط) دی، چې د دوی له هسې چارو ځنې دا رابښکاریږي، چې دوی د پخوانیو یاد شویو اصولو له کبله (وجهې) نه په کتابونو، او نه په پیغمبرانو په سم ډول سره ایمان لرونکي دي، او نه د الله تعالی په عهد باندې وفادار دي، او نه د سختی او مصیبت په حالت کې له صبر او تحمل سره څه علاقه لري، او نه د خپل کوم عزیز او قریب د وژلو په وخت کې له صبر او تحمل

څخه کار اخلي، او نه د نفسي غوښتنو څخه ځان ژغوري (ساتي)، بلکه د الله تعالى له احکامو او دانبياوو له ارشاداتو، او د کتاب الله له حکمونو ځني غاړه غړوي، او د بېګناهو خلقو په وژلو حکم ورکوي.

اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ

اصيل په اصيل باندې (قصاصيږي).

تفسير: دا توضيح د هغې برابرۍ دې چې حکم يې صادر شو، مطلب يې دا دی: د هر آزاد نارينه په «قصاص» کې يواځې همغه يو آزاد نارينه وژل کيدی شي، چې د هغه وژونکی دی، داسې نه چې د يوه قاتل په عوض کې له يوې قبيلې ځني دوه تنه يا زيات له هغو څخه په خپله خوښه ووژل شي.

وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ

او مريی په مريي باندې (قصاصيږي).

تفسير: يعنې د هر مقتول غلام په مقابل کې هماغه غلام وژل کيږي، چې قاتل يې دی، داسې به نه کيږي چې د کوم شريف سړي د غلام په قصاص کې دهغه قاتل په ځای چې د کم نسبو خلقو غلام دی، کوم آزاد سړی ووژل شي.

وَالْاُنْثٰى بِالْاُنْثٰى

او ښځه په ښځه باندې (قصاصيږي).

تفسير: يعنې د هرې ښځې په «قصاص» کې يواځې همغه ښځه وژل کيږي، چې د هغې قاتله ده، داسې نه شي کېدی، چې د کومې شريفې ښځې په «قصاص» کې هغه کم نسبه ښځه ژوندی پرېښوده شي، چې قاتله ده، او د دې له تېر ځني کوم نارينه وواژه (قتل) شي.

خلاصه يې داسې شوه چې هر آزاد د بل آزاد سره، او هر غلام د بل غلام سره برابر دی، نو ښايي چې په قصاص کې هم مساوات وي، او هغه تعدي او تجاوز چې کتابيانو او د عربو جاهلانو کاوه، بيخي ممنوع دی.

فَمَنْ عُفِيَ لَهٗ مِنْ اَخِيْهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوْفِ وَاَدَآءٌ اِلَيْهِ بِاِحْسَانٍ

نو هغه څوک چې عفوه وکړه شي (مصلحتا) ده ته له (قصاصه د اسلامي) ورور د ده نه څه شی، نو لازمه ده (په دې عفو کوونکي) مطالبه د ديت (له قاتله) په ښه وجه سره، او ورکول (د ديت دي) هغه (عفوه کوونکي) ته په ښه وجه سره.

تفسير: يعنې که د مقتول له وارثانو ځني کوم وارث خپل حق وبخښي، نو قاتل نه پرې قصاصيږي، بلکه ګورو به چې هغو وارثانو په څه ډول سره هغه قاتل بخښلی دی؟ بې له مالي معاوضې څخه يواځې د ثواب په غرض؟ يا د شرعي ديت په مقابل کې؟ يا د مصالحې په توګه د څه مال په مقابل کې؟ يعنې له «قصاص» ځني څرنګه تېر شوی دی؟ او د هغه په مقابل کې په څه شي راضي شوی دی؟ په اول صورت کې قاتل د وارثانو له مطالبې ځني بيخي خلاصيږي، او په نورو صورتونو کې قاتل لره ښايي چې هغه معاوضه په ډېر ممنونيت او خوښې سره ادا کړي !.

ذٰلِكَ تَخْفِيْفٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ

دا کار (د قصاص جواز يا ديت يا عفوه) آساني ده له (طرفه) د رب ستاسې، او مهرباني ده (چې اختيار يې تاسې ته درکړ).

تفسير: يعني دا اجازه چې «په قتل عمد» کې که غواړئ قصاص واخلئ، که غواړئ ديت واخلئ، که مو زړه غواړي ويې بخښئ، دا د پاک الله له خوا تاسې ته يو لوی سهولت او خورا (ډېره) مهرباني ده، يعني د مقتول په وارثانو او قاتلانو په دواړو باندې داسې يوه اساني او لوربينه (پېرزوينه) ده، چې په پخوانيو خلقو باندې نه وه، لکه چې په يهودانو «قصاص» او په نصرانيانو «ديت» يا عفو مقرره وه.

فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٧٨﴾

نو هر چا چې زياتوالی وکړ (په ظلم او وژلو د قاتل) وروسته له دې فيصلې (چې ديت يا عفوه ده) نو ده لره دی عذاب دردناک (د دوزخ په عقبی کې، او قصاص په دنيا کې).

تفسير: يعني که وروسته له دې تخفيف او رحمت څخه هم څوک بيا مخالفت او د جاهليت په دود (رواج) او دستور باندې تګ کوي، يا د عفوې او ديت له منلو څخه وروسته قاتل وژني، نو ده ته په آخرت کې سخت عذاب دی، يا اوس هم هغه وژل کيږي.

وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ

او تاسې لره دی په قصاص کې (لوی) ژوندون.

تفسير: يعني اګر که «قصاص» په ښکاره سره سخت او دروند ښکاري، مګر پوهان ښه پوهيږي، چې دا حکم د يو لوی ژوندون سبب دی، ځکه چې هيڅوک د «قصاص» د وېرې د بل قتل ته هيڅکله اقدام نه کوي، نو ددې له امله د دواړو ځانونه محفوظ پاتې کيږي، او د قصاص په وسيله د قاتل او مقتول د دواړو ټبرونه هم له وژلو او د وينې له تويولو او بديو ځنې محفوظ او مطمئن کيږي.

په عربو کې (لکه دپښتنو په شان) داسې يو دود (رواج) او دستور وو چې هغوی به د قاتل او غير قاتل فرق نه کاوه، او په هر چا باندې به يې چې لاس بر کېده؛ هماغه به يې واژه، او په دواړو ډلو کې به دهمدې له امله تل جنګ او جګړه وه، او د يوه تن د وينې د تويولو په سبب به په زرهاوو کسان وژل کېدل، کله چې د اصلي قاتل څخه «قصاص» واخيستل شي، نو دا ټول انسانان محفوظ او مصون پاتې کيږي.

يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿١٧٩﴾

ای خاوندانو د عقلونو ! لپاره ددې چې تاسې ځان وساتئ (له ناحقو وينو څخه).

تفسير: يعني د «قصاص» له وېرې د بل چا له وژلو ځنې ځانونه وساتئ، يا خپل ځانونه د «قصاص» په سبب د آخرت له عذابه وساتئ، يا کله چې تاسې ته د «قصاص» د حکم حکمت در څرګند شو، نو د هغه له مخالفت ځنې چې د «قصاص» ترک دی؛ ځانونه وساتئ !.

كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ اِنْ تَرَكَ خَيْرَا ۨ الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٨٠﴾

فرض کړی شوی دی په تاسې باندې کله چې حاضر شي يو له تاسې ته (اسباب) د مرګ؛ که پرې ايښې يې وي څه مال: وصيت کول لپاره د مور او پلار او (نورو) خپلوانو په ښه انصاف سره، دا حکم لازم دی په پرهېزګارانو باندې.

تفسير: په خلکو کې داسې دود (رواج) اودستور وو، چې د مړي ټول مال به يې د هغه ښځې او اولادې ته ورکاوه، بلکه مخصوصا به هلکانو ته ورکاوه کېده، مور او پلار او نور خپلوان به له هغه څخه بې برخې پاتې کېدل، په دې آيت کې ارشاد وشو چې: مور او پلار او ټولو خپلوانو ته په انصاف سره وصيت کول پکار دي، او په مړ کېدونکي (محتضر) باندې سم له هغه سره وصيت کول فرض شول، او دا وصيت تر هغه وخته پورې فرض وو؛ چې د ميراث آيت نه وو نازل شوی، کله چې د (النساء) په سورت کې د ميراث احکام نازل شول، او پاک الله د ټولو برخې بيان کړې، نو اوس په ميت باندې په خپله متروکه کې وصيت فرض نه دی، او ضرورت ورته نشته، هو ! د مستحب په اندازه منلی شوی دی، خو د وارث لپاره وصيت کول جائز نه دي، او هم د مال له يوه ثلث ځنې زيات وصيت کول نه دي روا، او که وصيت د سړي د پور (قرض)، امانت، وديعت، او نورو راکړو ورکړو په متعلق وي؛ نو د هسې چارو وصيت اوس هم فرض دی.

فَمَنْ بَدَّلَهُۥ بَعْدَ مَا سَمِعَهُۥ فَإِنَّمَآ إِثْمُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٨١﴾

نو هر چا چې بدل کړ دا وصيت وروسته له هغه چې وايې ورېده هغه، نو همدا خبره ده چې ګناه د دې (بدلولو) په هغو کسانو باندې ده چې بدلوي دا (وصيت) بېشکه چې الله ښه اورېدونکی (د ټولو اقوالو) ښه پوهيدونکی دی (په ټولو احوالو).

تفسير: يعنې مړي خو له انصاف سره سم وصيت وکړ او مړ شو، مګر ورکوونکي (وارث) په هغه وصيت باندې عمل ونه کړ، نو په دې صورت کې په مړي باندې هيڅ ګناه نشته، مړي خو خپل فرض ادا کړی دی، او هغه کسان ګناهګار کيږي چې له وصيت څخه چپ (غلط) او مخالف کار کوي.

فَمَنْ خَافَ مِن مُّوصٍ جَنَفًا أَوْ إِثْمًا فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ ۚ

نو هغه څوک چې وېرېږي له وصيت کوونکي څخه د ظلم (په خطا سره) يا د ګنا (په قصد سره) نو اصلاح وکړي په مينځ د دوی (د موصي او موصى له) کې، نو نشته هيڅ ګناه په ده باندې.

تفسير: يعنې که چاته د مړي په وصيت کې داسې شبهه ور ولوېږي، يا پوه شي چې دا مړی له کوم سببه غلط شوی دی، او بې ځايه يې د کوم سړي رعايت کړی دی، او د بل سړي حق يې تر پښو لاندې کړی، يا يې د پاک الله له حکم ځنې مخالفت کړی دی، او دا مصلح د وارثانو په مينځ کې د شريعت له حکم سره سمه برابره مصالحه وکړي، نو په دغه مصلح باندې هيڅ ملامتي او ګناه نشته، او په وصيت کې داسې تغيير او تبديل جايز بلکه بهتر دی.

إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٨٢﴾

بېشکه الله ښه بخښونکی پوره رحم کوونکی دی (په هغه چا چې د الله د احکامو په اجراء کې ډېر احتياط کوي).

تفسير: يعنې حق تعالى ګناهګاران بخښي، نو هر څوک چې د ا صلاح په غرض يوه خرابي له مينځه لري کوي، ده ته هرومرو مغفرت کوي، يا يې معنى داده چې د هغه وصيت کوونکي بخښونکی دی، چې نا جائز وصيت يې کړی وي، او بيا په خپل نا جايز وصيت باندې پوه شوی وي، او له هغه وصيت څخه په خپل ژوند کې بېرته ګرځېدلی وي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو !) فرض کړی شوې ده په تاسې باندې روژه؛ لکه چې فرض کړی شوې وه په هغو کسانو چې پخوا له تاسې څخه وو (لکه پخوانې امتونـه او پیغمبـران تر آدمه پورې).

لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٨٣

لپاره د دې چې تاسې ځان وساتئ (له ګناهونو څخه او پرهېزګاران شئ، ځکه چې روژه د شهوانې قوې ماتوونکې ده).

تفسیر: یعنې روژه مسلمان د نفسې خواهشونو پربښودلو سره عادي کوي، او په دې وسیلې سره کولی شي چې خپل نفس له هغو نفساني خواهشونو او شرعي محرماتو څخه وساتي، چې نفس ته ډېر عزیز او ګران وي، روژه د انسانانو په نفسونو کې د شهواني قواوو په ضعیفولو کې ډېر ښه اثر کوي، او په انسانانو کې د تقوی او پرهېزګارۍ روحیه تقویه کوي، په روژه کې لوی حکمت: د سرکښ نفس اصلاح، او د شریعت د هغو احکامو آساني او سهولت دی، چې د هغو کول پر نفس باندې ګران او درانه وي، تر څو چې روژتي متقي شي.

أَيَّامٗا مَّعۡدُودَٰتٖۚ

یو څو ورځې شمېرلې شوې (لږ چې د رمضان ۲۹ یا ۳۰ ورځې دي).

فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٖ فَعِدَّةٞ مِّنۡ أَيَّامٍ أُخَرَۚ

پس هر څوک چې وي له تاسې څخه ناجوړ یا وي په سفر (او روژه وخوري) نو (پر ده باندې لازم دي روژه نیول) په شمار (د خوړلیو شویو ورځو) له ورځو نورو.

تفسیر: بیا په دې لږه موده کې یې دومره سهولت او آساني فرمایلې ده، چې که څوک داسې ناروغ وي، چې روژه نیول ورته تکلیف پېښوي، یا مسافر وي، نو واک او اختیار لري چې روژه ونه نیسي، بیا دې د هغو ورځو قضایي وروسته له رمضان المبارک څخه ونیسي، چې په رمضان المبارک کې یې د معذرت له کبله (وجهې) خوړلې وې، خوښه یې چې دا قضایي جلا جلا (جدا جدا) راوړي او که یو ځای.

وَعَلَى ٱلَّذِينَ يُطِيقُونَهُۥ فِدۡيَةٞ طَعَامُ مِسۡكِينٖۖ

او په هغو کسانو باندې چې د روژې نیول طاقت نه لري فدیه ورکول دي، (یا) او په هغو کسانو باندې چې د روژې نیولو طاقت لري فدیه ورکول دي (او دا حکم په اول کې وو بیا منسوخ شو) طعام د یوه مسکین (د یوې روژې په برابرۍ).

تفسیر:

(۱) د ﴿يُطِيقُونَهُۥ﴾ ترجمه په «چې طاقت نه لري» سره په دې سبب ده، چې همزه لپاره د سلب شي، یا د «لا» کلمه په کې مقدره شي، یعنې چې طاقت تر سلب شوی وي لکه شیخ فاني.

(۲) او د ﴿يُطِيقُونَهُۥ﴾ ترجمه په «طاقت لري» سره بنا په ظاهر د آیت سره ده، یعنې هغه خلق چې د روژې نیولو طاقت لري، خو په اول د اسلام کې د بیخي عادت نه لرلو په سبب، دوی ته د یوې کاملې میاشتې

پرله پسې روژه نيول ډېر ګران او درونـد کار وو، نو د دوی د آسانۍ لپاره داسې فرمايل شوي وو چې: که تاسې ته کوم عذر لکه مرض يا سفر په مخ کې نه وي، مګر يوائې د عادت نه لرلو په سبب تاسې ته روژه سخته وي، نو تاسې اختيار لرئ چې روژه نيسئ، يا دروژې فديه ورکوئ. د يوې روژې فديه يوه مسکين ته په مړه ګډه د دوه وختو طعام ورکول دي، بيا نو کله چې خلق له روژې سره عادي شول، دا حکم منسوخ او اجازه پاتې نه شوه، چې ددې نسخې بيان په ورستني آيت ﴿فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾ کې راځي، ځينې له ﴿طَعَامُ مِسْكِينٍ﴾ څخه «صدقة الفطر» هم مرادوي، چې په دې تقدير سره يې معنى داسې کيږي «هغه کسان چې د فديې ورکولو طاقت لري، دوی دی د يوه مسکين د خوراک په اندازه طعام ورکړي !» چې اندازه يې د خوراکي شيانو يو پيمانه ده، په دغه تقدير لکه اوله ترجمه دا آيت منسوخ نه دی، هغه خلق چې اوس هم داسې وايي: «خلق په رمضان کې اختيار لري چې روژه نيسي يا په فديه اکتفاء کوي، او روژه قطعي حکم نه دی» نو دا د جهل او ناپوهۍ وينا ده، يا يې ويونکي بې دين دي.

فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ

پس هر څوک چې پخپله خوښه (زيادت) وکړي کومه نيکي کې، نو دغه بهتره ده ده لره.

تفسير: يعنې د يوې ورځې له خوراک څخه زيات يوه مسکين ته ورکړي، يا د څو تنو مسکينانو ګډې مړي کړي، نو سبحان الله دا ډېره ښه ده.

وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٤﴾

او روژه نيول ستاسې (سره د افطار له رخصته) ډېر بهتر دي تاسې ته (له خوړلو څخه) که چېرې يئ تاسې چې پوهيږئ (دروژې په فضيلت).

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ

مياشت د روژې هغه مياشت ده چې نازل کړی شوی دی په دې کې قرآن چې هدايت دی لپاره د خلقو، او دليلونه دي ښکاره (له جنسه د هغو شيانو) چې هغه لاره ښيي، او ښلوونکی د حق او باطل دی.

تفسير: پاک قرآن رمضان المبارک کې له لوح محفوظ څخه اول آسمان ته ټول سره يو ځای نازل شوی دی، بيا له هغه ځای څخه له ضرورت سره سم او د احوالو په مقتضی په محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم په (٢٣) کلونو کې ټوټه ټوټه (لږ لږ) نازل شوی دی، او « جبريل عليه السلام» د سيد المرسلين خاتم النبيين صلی الله عليه و علی آله وصحبه وسلم په حضور په هر رمضان المبارک کې د نازل شوي قرآن عظيم ختم کاوه، او بيا بيا يې د تکرار په ډول ځمونږ رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ته اوراوه، چې له دغو ټولو حالاتو او خبرو څخه د رمضان المبارک فضيلت او له قرآن عظيم الشان سره د هغې مناسبت او خصوصيت ښه ښکاريږي، او د همدې له امله په همدې مياشت کې «تراويح» هم مقررې شوي دي، نو ښايي چې په دې مياشت کې د پاک قرآن خدمت په ډېر شوق او ښه اهتمام سره وشي ! ځکه چې دا مياشت د همدې لپاره مقرره او معينه شوې ده.

فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ

نو هر څوک چې وموميِ له تاسې (ای مکلفينو) دا مياشت نو ضرور دې روژه ونيسي د هغې (مياشتې).

وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ

او هغه څوک چې وي ناجوړه يا په سفر کې بوزه وي، نو (پر ده باندې دي روژه نيول) په شمار (د خوړليو شويو ورځو) له ورځو نورو.

تفسير: له دې عام حکم څخه دا معلوميږي چې ښايي مريض او مسافر ته به هم د افطار او د قضا اجازه نه وي پاتې، او لکه چې د روژې توان لرونکی اوس له افطار څخه منع شوی دی، همداسې به مسافر او مريض هم له افطار څخه منع شوی وي، نو ځکه يې د مسافر او مريض ذکر بيا په صاف ډول وفرمايه، چې دوی ته په رمضان المبارک کې د افطار کولو، او په نورو ورځو کې د هغه د قضا راوړلو اجازه اوس هم د پخوا په شان باقي پاتې ده.

يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٨٥﴾

اراده لري الله په تاسې د آسانتيا، (چې مسافر او مريض يې مخير کړ)، او اراده نه لري په تاسې باندې د سختۍ، او لپاره د دې چې پوره کړئ (تاسې په قضا سره) شمار (دروژې د مياشتې) او چې په لويي سره ياد کړئ الله، په دې چې هدايت يې کړی دی تاسې ته، او لپاره د دې چې تاسې شکر وباسئ (د رخصت، آسانۍ او په نعمتونو باندې).

تفسير: مطلب دا دی: الله تعالی چې په اول کې د رمضان المبارک د روژې د نيولو حکم وفرمايه، او د معذرت له سببه يې مريض او مسافر ته د افطار کولو اجازه وفرمايله، او په نورو وختونو کې يې د هغو قضا شويو ورځو په شمار د هغو قضايې په مونږ او تاسې باندې واجبه وګرځوله، او په دې قضايې کې يې د يو ځای يا سره جلا جلا (جدا جدا) نيولو قيد له مينځه وويست، نو په دې کې يې ځمونږ او ستاسې د سهولت او د آسانۍ لحاظ وکړ، چې په مونږ او تاسې باندې څه تکليف واقع نه شي، او دا هم منظور دی چې: تاسې د خپلې روژې شمير پوره کړئ، څو چې په ثواب کې مو څه لږوالی رانشي، او دا مو هم تر نظر لاندې وي، چې تاسې د دې خير او خورا ښې طريقې په هدايت د پاک الله لويي او عظمت بيان کړئ، او د هغه د عزت، جبروت، او کبريا يادونه وکړئ !، او دا هم مطلوب دی چې پر دغو نعمتونو باندې شکر وباسئ !، او د شکر کوونکو په ډله کې ننوځئ !.

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴿١٨٦﴾

او کله چې پوښتنه وکړي (ای محمده !) له تا څخه بندګان ځما (له لريوالي او نږديوالي) ځما، نو بېشکه زه نژدې يم (دوی ته په علم او اجابت سره) قبلوم زه سوال د غوښتونکي په هغه وخت کې چې وبولي ما، نو ښايي چې دوی هم ومني حکم زما (اطاعت) او ټينګ دې اوسي په ايمان په ما باندې؛ ښايي چې دوی په سمه لاره محکم پاتې شي.

تفسير: په لومړني آيت کې د الله تعالی د لويي او عظمت حکم بيان شوی وو، نو په دې نسبت ځينو خلقو پوښتنې وکړې چې: «ځمونږ رب که لري وي نو مونږ به په زور سره ور غږ کړو، او که نژدې وي نو ورو ورو به ورسره وغږيږو»، په دې سبب د آيت نازل شو، يعنې الله تعالی نژدې دی، هره خبره اوري، که ورو ورو وغږيږئ !، او که په چيغو ورناړې کړئ !، هغه ټول اوري، په هغو ځايو کې چې په زور سره د تکبير ويلو حکم شوی وي؛ د هغو وجوه او اسباب نور په همغو ځايو پورې محدود او خاص دي، او سبب يې دا نه دی چې الله تعالی (معاذ الله) ورو خبره نه اوري.

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ ۚ

حلال کړی شوی دی تاسې ته په شپه د روژې کې یو ځای والې (جماع) ښځو خپلو سره.

تفسیر: د رمضان المبارک په شپو کې چې وروسته له خوبه خوړل او څښل او له خپلو ښځو سره نژدې کېدل حرام وو، په هغه کې یې هم آساني وفرمایله، اوس که د شپې په هره برخه کې مو هرې مشروعې او مرغوبې چارې ته زړه کیږي، هغه وکړئ !.

هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۗ

دوی لباس دي تاسې لره، او تاسې لباس یئ دوی لره.

تفسیر: له لباس او کالیو (جامو) څخه خورا (ډېر) اتصال او ډېر اختلاط مقصود دی، یعنې همغسې چې ستاسې په وجود کالي ننبتي او پیوست دي، همدارنګه ښځه او نارینه هم ډېر سره نژدې او د شودو او شکرې په شان یو له بل سره ګډون او امتزاج لري.

عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ

معلوم دي الله ته چې بېشکه تاسې یئ چې خیانت کوئ په ځانو خپلو.

تفسیر: له خپل نفس سره له خیانت کولو ځنې مطلب دا دی، چې له ویدیدلو څخه وروسته تاسې خپلو ښځو ته نژدې کیدئ !، او د پاک الله د حکم د مخالفت له سببه ستاسې نفس د عقاب مستحق ګرځېده، نو پاک الله په خپل فضل او کرم سره تاسې معاف کړئ، او وروسته له دې تاسې ته اجازه وشوه، چې په ټوله شپه کې هر هغه حلال عمل چې مو زړه غواړي ویې کړئ !.

فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ ۖ فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ ۚ

پس رجوع یې په رحمت سره وکړه په تاسې باندې او عفوه یې وکړه له تاسې (د تېر خیانت) نو اوس جماع کوئ ! له خپلو ښځو سره (د روژې په شپو کې) او وغواړئ هغه شی چې لیکلي (مقرر کړي دي) الله ستاسې لپاره.

تفسیر: یعنې هغه اولاد چې په لوح محفوظ کې ستاسې لپاره د الله تعالی له لوري مقدر شوي دي، ښایي چې د ښځو په مباشرت کې همغه مطلوب وي، او تش شهواني کارونه مو مقصود نه وي، په دې کې د عزل کراهت، او د لواطت ممانعت ته هم اشاره ده.

وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۖ

او خورئ ! او څښئ ! تاسې تر هغه پورې چې ښکاره شي تاسې ته تار سپین (جدا) له تاره توره (چې سپین تار) له سبا ځنې (دی).

تفسیر: یعنې همغسې چې په ټوله شپه کې د مجامعت اجازه ورکړی شوې ده، همداسې د رمضان المبارک په شپو کې هم تر سپېده داغه پورې د خوړلو او څښلو اجازه ورکړی شوې ده.

ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ

بيا پوره کړئ ! روژه (خپله) تر شپې پورې،

وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنْتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ

او مه نژدې کيږئ ! ښځو ته (په جماع سره) حال دا چې تاسې معتکفان يئ په مسجدو کې.

تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿١٨٧﴾

دا احکام او حدود د الله دي، نو مه نژدې کيږئ دوی ته (په ماتولو سره)، همداسې (لکه چې دا يې درته بيان کړل) بيانوي الله آيتونه خپل لپاره د خلقو چې دوی ځان وساتي (د دې حدودو له مخالفته).

تفسير: هغه د حل او حرمت حکمونه چې د روژې او اعتکاف په نسبت تېر شول، د الله تعالى له خوا مقرر شوي دي، ښايي چې له دغو څخه هيڅ تجاوز ونه کړئ ! بلکه هغو ته هيڅ مه نژدې کيږئ ! يا يې مطلب دا دی چې پخپله رأيه يا د بل کوم حجت په اساس د يوه ويښته په اندازه هم ځني مه لرې کيږئ !.

وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ

او مه خورئ مالونه خپل په خپل منځو کې په ناحقه سره.

تفسير: د حرام مال نه خوړل، او روژه تړې نيول، د ژوند په ټول عمر کې يو ضروري امر دی، او د هغه لپاره کومه ټاکلې زمانه او حد نشته، لکه غلا، خيانت، ټګي، رشوت، غصب، قمار، ناروا بيه، سود او نور چې په دغه ډول د مال ګټل بالکل حرام او نا جايز دي.

وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٨﴾

او مه رسوئ ! دا مال تر حاکمانو پورې لپاره د دې چې وخورئ (تاسې په دې رسولو سره) يو څه له مالو د خلقو ځني په ظلم (نا حقه سره) او تاسې پوهيږئ (چې دا ظلم دی).

تفسير: «مه يې رسوئ تر حاکمانو پورې»: يعنې د کوم سړي د مال خبر ظالمو حاکمانو ته مه رسوئ، يا خپل مال د رشوت په ډول حاکمانو ته مه ورکوئ ! چې حاکم د خپل ځان مل کړئ، او د بل چا مال د هغه په زور سره وخورئ، همدا راز د دروغو په شاهدي، يا د دروغو په دعوی، د بل چا مال مه آخلئ ! او حال دا چې تاسې په خپله ناحقي هم پوهيږئ.

يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَهِلَّةِ

پوښتنه کوي خلق له تا څخه (ای محمده !) له حاله د نويو مياشتو.

تفسير: خلقو د سپوږمۍ د دې زياتوالي او کموالي په نسبت ځمونږ له رسول اکرم صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم څخه پوښتنې وکړې، نو دا آيت نازل شو.

قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ

ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې دا مياشتې ټاکلي (مقرر) شوي وختونه دي لپاره د خلقو او دحج.

تفسير: يعني اى محمده ! دوى ته ووايه چې د سپورمۍ په ختلو او بدلون سره ډېرې چارې او معاملې تعلق لري، او د سپورمۍ په وسيله ديني ورځې، د عباداتو او معاملاتو وختونه، د قرض، اجارې، حمل، رضاعت، روژې، زكات، عدت، عقود، شروط، مزدوري، او د نورو شيانو نېټې څرګندېږي، او هره يوه نېټه او تاريخ له هغې څخه پر ډېر ښه شان سره ښكارېږي، په تېره بيا د «حج» د تخصيص بله وجه همدا ده چې: «ذو القعدة الحرام، ذو الحجة الحرام، محرم الحرام، او رجب المرجب» دا څلور مياشتې حرامې مياشتې بللې كيدې، چې په دغو مياشتو كې جنګ او وژل حرام وو، كه په دغو مياشتو كې به عربو ته كوم جنګ پېښېده، نو هغوى به تاريخونه سره وړاندې وروسته كول، او په يوه پلمه (تدبير) او بهانه سره به يې په هماغو حرامو مياشتو كې جنګونه كول، مثلا كه په «ذو الحجة» يا «محرم» كې به له جنګ سره مخامخ كېدل، نو هغه به يې په «صفر» سره تعبير كاوه، او كله چې به «صفر» كې كوم كار د دوى په مخ كې راته، نو هغه به يې په «ذو الحجة» يا «محرم» يادوه، نو د دوى د دې خيال د ابطال له امله يې دلته د «حج» تصريح وفرمايله، هغه ورځې چې حق تعالى جل وعلى شأنه د «حج» لپاره ټاكلي دي، په هغو كې وړاندې وروسته كول، هيڅكله جايز نه دي، اوس له دې نه وروسته د «حج» او د هغه متعلقات او احكام تر ډېر ځاى پورې ذكر كېږي.

وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَىٰ ۚ وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٨٩﴾

او نه ده نيكي (دا كار) چې راځئ (تاسې) كورو ته د شا له لوري د هغو، او ليكن (خاوند) د نېكۍ هغه څوك دى چې ويرېږي (له الله په ترك د مخالفت كې)، او راځئ ! كورو ته له طرفه د دروازو د هغوى، او وويرېږئ له الله څخه د دې لپاره چې تاسې خلاص شئ (د الله له عذاب) او په خپل مراد ورسېږئ.

تفسير: د جاهليت په زمانه كې داسې دود (رواج) او دستور وو، چې كله به دوى د «حج» احرام وتاړه، او له خپلو كورونو ځني به وتل، او بيا به اتفاقا هغوى ته كوم هسې ضرورت پېښېده چې بېرته به د خپل كورو ورتګ ته اړ كېدل، نو د دروازو له لارې به نه ورتلل، او په بام باندې به ورختل، او له هغې لارې به خپلو كورو ته ورننوتل، يا به د شا له خوا پكې ننوتل، يا به يې د شا له لوري سورى واهه، او پكې به ننوتل، او دا كار به يې نيكي او ښېګڼه ګڼله، نو ځكه پاك الله دا كار غلط وښود.

وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ

او جنګ كوئ (اى مؤمنانو !) په لاره د الله كې ! له هغو كسانو سره چې جنګ كوي له تاسې سره.

وَلَا تَعْتَدُوا ۚ

او مه كوئ تېرى، زياتى (پر هيچا باندې اى مؤمنانو !).

تفسير: يعني تېرى مه كوئ، ددې معنى دا ده چې په جنګ كې دې وړوكي، ښځې، او سپينږيري قصدا ونه وژل شي ! او دننه په بيت الحرام كې دې په جګړو باندې لومړى پيل (ابتدا) ونه كړل شي.

إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴿١٩٠﴾ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ

بېشكه چې الله تعالى محبت نه كوي تېري كوونكو سره له حده. او ووژنئ ! دوى په هر ځاى كې چې مومئ دوى، او وباسئ ! دوى له هغه ځايه چې ايستلي دي دوى تاسې لره.

تفسير: هر چېرې چې يې مومئ ويې باسئ، يعنې په «حرم» کې وي يا پرته له حرمه، له هغه ځايه چې تاسې يې ايستلي يئ، يعنې له مکې معظمې څخه يې وباسئ.

وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ

او فتنه (شرک او له دين ځنې اړول) ډېر سخت دي له وژلو څخه.

تفسير: يعنې له دين ځنې ګرځېدل، يا له دين ځنې د بل چا ګرځول، له هغو وژلو څخه چې په أشهر الحرم کې واقع شي؛ ډېره لويه ګناه ده، مطلب يې دا دی چې د مکې معظمې په حرم کې د کفارو شرک او کفر او نورو ته د کفر او شرک په لوري لارښوونه کول ډېر قبيح کار دی.

وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ ۖ فَإِنْ قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ ۗ كَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ ﴿١٩١﴾

او جنګ مه کوئ ! له دوی سره د مسجد الحرام په خوا کې تر هغه پورې چې وجنګيږي دوی له تاسې سره په دغه (حرم) کې، پس که جنګ وکړي دوی له تاسې سره نو وژنئ ! دوی، همداسې (لکه تېرې شوې جزا) جزا ده د کافرانو.

تفسير: يعنې مکه معظمه خامخا د امن ځای دی، ولې که هغوی پر تاسې باندې برید وکړي، يا په ظلم باندې لاس پورې کړي، او په ايمان راوړلو کې له تاسې سره دښمني وکړي، چې دا خبره له وژلو ځنې هم سخته ده، نو بيا هغوی لره امان نه پاتې کيږي، او هر چېرې چې يې ومومئ ويې وژنئ ! آخر ته چې مکه معظمه فتح شوه، رسول اکرم صلى الله عليه وسلم همداسې امر وفرمايه: «هغه څوک چې د مسلمانانو په مخ کې توره په لاس ودرېږي، ويې وژنئ ! او نورو کسانو ته امن ورکړئ».

فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٩٢﴾

پس که منع راوړي (له شرکه، نو الله به يې وبخښي) نو بېشکه الله ډېر بخښونکی، پوره رحم کوونکی دی.

تفسير: يعنې سره له دومره خبرو که اوس هم دوی ايمان راوړي، او له کفر او شرک ځنې توبه وباسي، نو د هغوی توبه منله کيږي.

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ ۖ فَإِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿١٩٣﴾

او جنګ کوئ تاسې ! له دوی سره تر هغه پورې چې پاتې نشي فتنه (شرک او فساد)، او شي دين (حکم) خاص الله لره، پس که چېرې وګرځېدل (دوی له شرکه نو تاسې تجاوز مه کوئ پر دوی باندې) نو نشته هيڅ تېری مګر (خو شته جزا د ظلم) پر ظالمانو باندې.

الشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمَاتُ قِصَاصٌ ۚ فَمَنِ اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴿١٩٤﴾

مياشته حرامه په بدل د مياشتې حرامې کې ده، او تعظيمونه (د دې شيانو) سره برابر دي، پس هر چا چې تېری وکړ پر تاسې باندې نو تاسې هم تېرئ کوئ ! په هغوی باندې په شان د هغه

چې تېرې يې کړې وو پر تاسې باندې، او وويرېږئ له الله څخه ! او پوه شئ ! چې بېشکه الله له پرهېزګارانو سره دی (په علم او نصرت سره).

تفسير: دا د حرمت مياشت يعنې «ذو القعدة الحرام» چې د عمرې لپاره پکې درومئ، د هغه حرمت مياشتې په ځای ده، چې د پروسږ کال تېر شوي کال په «ذو القعدة الحرام» کې تاسې د کفارو له خوا د عمرې او د بيت الله شريف له زيارت څخه ممنوع شوي وئ، او پرې يې نه ښودئ چې مکې معظمې ته لاړ شئ.

وَأَنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ

او صرفوئ (مالونه خپل) په لاره د الله کې ! او مه غورځوئ ځانونه خپل په هلاکت کې (چې جهاد ترک کړئ ! او خپل مالونه په غزا کې ونه لګوئ !).

وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ

او نيکي کوئ ! (له هر چا سره مخصوصا له غازيانو سره) بېشکه چې الله دوستي کوي له نېکو کارانو سره.

وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ

او پوره ادا کړئ حج ! او عمره خاص الله لـره، بيا که چېرې منع کړی شوئ (له تمامولو د حج او عمرې) نو (واجب دی پر تاسې) هغه څه چې آسان دي له هديې څخه (چې مذبوحه ده) او مه خريئ ! (ای محصرانو !) سرونه خپل تر هغه پورې چې ورسيږي هديه (چې مذبوحه ده) ځای د حلالې خپلې ته.

تفسير: مطلب دا دی: کله چې څوک «حج» يا «عمره» شروع کړي يعنې احرام وتړي؛ نو پر هغه باندې دا خبره لازمه ده، چې پوره يې کړي، او روا نه ده چې هغه په نيمايي کې پرېږدي، او له احرام څخه ځان وباسي، مګر که کوم دښمن يا مرض ورپېښ شي، او د هغه له سببه «حج» او «عمره» پای ته ونشي رسولی، نو پر ده باندې دم اوړي، چې له خپل توان سره سم حيوان حلال کړي، چې ادنی يې يو پسه دی، او دا حيوان به د بل چا په وسيله مکې شريفې ته ليږي، او دا دې هم ورته ووايي چې: تر دغې ورځې پورې دا مذبوحه د حرم ځمکې ته ورسوه ! او هلته يې ذبحه کړه ! او هر کله چې ډاډه شي، چې اوس د ده مذبوحه ذبحه شوې ده، نو هلته دا خپل ويښتان لنډ يا وخريي، او پخوا له هغه دې هيڅکله ځان نه حلالوي، داسې ويني ته د «حصار وينه» وايي، چې د «حج» يا د «عمرې» د نه تمامولو له سببه پر «حاجي» يا «معتمر» باندې اوړي.

فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِّن رَّأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ

نو هر څوک چې وي له تاسې څنې ناجوړه، يا وي په ده باندې تکليف له (طرفه) د سر د ده، نو لازمه ده په ده باندې فديه له روژې څخه، يا له خيراته، يا له حلالولو (دپسه).

تفسير: يعنې که د «احرام» په حالت کې څوک رنځور شي، يا د هغه په سر کې درد يا زخم وي، نو هغه لره د ضرورت له امله د احرام په حالت کې هم سر خرييل، يا د ويښتانو لنډول روا دي، مګر د هغه «فديه» دې ورکوي، چې هغه د

درې ورځو روژه نيول، يا شپږو تنو مسکينانو ته طعام ورکول دي، يا د يوه پسه (ګډې) حلالول دي، دا وينه د «جنايت وينه» بولي، چې د «احرام» په حالت کې د ناچارۍ له کبله د «احرام» د مخالفو امورو په کولو باندې لازميږي.

فَإِذَا أَمِنتُمْ فَمَن تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ

نو هر کله چې په امن شئ پس هر چا چې نفع واخيسته په عمرې سره (چې يو ځای يې کړه) له حج سره نو (واجب) دي پر ده باندې هغه چې آسان وي له هديې څخه (چې مذبوحه ده).

تفسير: يعنې هغه «محرِم» چې د دښمن اومرض له خوا مطمئن وي، اعم له دې نه چې هغه ته له سره کومه اندېښنه ورپېښه نه شي، يا خو دښمن يا رنځورۍ څه عارضه او حادثه ورپېښه شوي وي، خو په خير سره زائله او له مينځه ورکه شوي وي، او د هغه له امله د هغه په احرام او «حج» او «عمره» کې څه خلل ورپېښ شوی نه وي، هغه لره ښايي چې فکر وکړي که «حج» او «عمره» يې دواړه سره يو ځای ادا کړي وي، يعنې «قِران» يا «تمتُّع» يې کړی وي، او «اِفراد» يې نه وي کړی، نو په ده باندې يو پسه يا د غويي يا د اوښ اومه برخه قرباني اوړي، چې دې وينې ته د «قران» او «تمتع» وينه وايي.

فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ

هر چا چې ونه مونده هديه (چې مذبوحه ده) نو (واجب) دی په ده باندې روژې د درې ورځو په (ورځو د) حج کې، او اوه ورځې (نورې) کله چه وګرځئ (تاسې) دا لس ورځې دي پوره.

تفسير: يعنې هغه څوک چې «قران» او «تمتع» يې وکړه، او مذبوحه ورته ميسره نشوه، نو هغه لره ښايي چې درې ورځې د «حج» په ورځو کې روژه ونيسي، چې د «عرفې» يعنې د «ذي الحجې» په نهمه ورځ کې پای (آخر) ته ورسيږي، او اوه ورځې د «حج» له فراغت څخه وروسته روژه ونيسي، چې دا ټولې لس ورځې شوې.

ذَٰلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

دا (حکم د تمتع) هغه چا لره دی، چې نه وي عيال د ده اوسېدونکی په (حوالي «احاطه» د) مسجد حرام کې.

تفسير: يعنې قران او تمتع يا وجوب د هديې يا د لسو ورځو روژو حکم په نادار؛ هغه چا لپاره دی چې په مسجد الحرام کې يعنې په مکه معظمه کې يا هغې ته نږدې نه اوسيږي، بلکه د «حل» يعنې له «ميقات» څخه د باندې هستوګنه ولري.

وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿١٩٦﴾ الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ

او وويرږئ له الله څخه او پوه شئ ! چې بېشکه الله ډېر سخت عذاب ورکوونکی دی. (وخت د) حج (څو) مياشتې معلومې دي.

تفسير: د شوال المکرم له اول څخه نيولې د لوی اختر يعنې د «ذي الحجة الحرام» د لسمې شپې تر سهاره پورې، ددې مياشتو نومونه (أشهر الحج) دي، ځکه چې د حج احرام د همدې مودې په منځ کې وي، که پخوا له دې څوک د حج «احرام» وترې، نو هغه ناجائز يا مکروه وي، يعنې د حج لپاره څو مياشتې مقررې دي، او ټولو ته ښکاره دي، هغه تغيير او تبديل چې د عربو مشرکينو به د خپل ضرورت له مخې په دې مياشتو کې کاوه، او د هغو په نسبت په بل آيت کې داسې فرمايلي شوي دي: ﴿إِنَّمَا النَّسِيءُ زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ﴾ هغه بيخي بې اصله او باطل دی.

فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ ۗ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ

نو هر چا چې فرض کړ (په خپل ځان) په دې میاشتو کې حج؛ نو نه دې کوي جماع (او نه دواعي د هغې) او نه ګناهونه او نه جګړې په (ورځو) د حج کې، او هر څه چې کوئ (تاسې) له نېک کار ځنې، نو پوهیږي په هغه باندې الله.

تفسیر: «حج» یې لازم کړ یعنې «احرام» یې وتاړه په داسې ډول چې په زړه یې نیت وکړ، او په خوله یې «تلبیه» وویله.

وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَىٰ ۚ وَاتَّقُونِ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ ﴿١٩٧﴾

او توښه واخلئ (له ځانو سره) نو بېشکه بهتره توښه ځان ساتل دي له سواله، او ووېرېږئ ! له ما ځنې ای خاوندانو د (صافو) عقلو !.

تفسیر: یو داسې غلط دود او دستور په کفر کې دا هم وو، چې بې د لارې دخرچه د تش لاس «حج» ته تلل یې ثواب ګڼل، او هغه ته به یې «توکل» وایه، او هلته به تلل، له هر چا ځنې به یې سوال او غوښتنې کولې، نو الله تعالی هغو کسانو ته چې قدرت لري؛ امر ورکوي چې هغوی دی د لارې خرچه له ځان سره اخلي، او بیا دې «حج» ته ځي، او بې له زاد او راحلې دې لارې نه شي، چې هم پخپله دی سرګردانیږي، او نورو ته هم سرګرداني پېښوي.

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ ۚ

نشته په تاسې باندې هیڅ ګناه په دې کې چې غواړئ روزي له فضل د رب خپل.

تفسیر: که د «حج» په سفر کې سوداګیري هم وکړئ څه ګناه نه لري، بلکه مباح ده، خلق له دې خبرې څخه په شبهه کې وو، چې ښایي له تجارت کولو څخه به په «حج» کې څه نقصان پېښیږي، نو اوس داسې هدایت صادر شو: هغه څوک چې اصلي مقصود یې «حج» وي، او د هغه په ضمن کې سوداګیري هم وکړي، نو د هغه په ثواب کې به څه نقصان نه راځي.

فَإِذَا أَفَضْتُمْ مِنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ۖ

نو هر کله چې راکوز شئ له عرفات څخه نو یادوئ الله په مشعر الحرام (مزدلفې) کې.

تفسیر: په ټوله مزدلفه کې هر چیرې ودریدل جائز او روا دي، پرته دوادي محصر څخه، چې هلته دي نه ودریږي.

وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ ۚ وَإِنْ كُنْتُمْ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الضَّالِّينَ ﴿١٩٨﴾

او یادوئ دي (یعنې الله) لکه چې لاره یې در ښودلې ده تاسې ته، او بېشکه چې وئ تاسې پخوا له هدایته خامخا له ګمراهانو ځنې.

تفسیر: یعنې کفارو خو به هم د پاک الله ذکر کاوه مګر په شرک سره، نو ښایي چې هسې ذکر دې ونه کړی شي، بلکه سره له توحیده یې همغسې ذکر و کړئ، چې تاسو ته یې هدایت درکړی دی.

ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٩٩﴾

بیا راکوزېږئ ! (ای قریشو د طواف لپاره) له هغه ځایه (عرفات څخه) چې راکوزیږي (نور) خلق (مزدلفې ته)، او مغفرت وغواړئ له الله څخه (د خپلو ګناهونو)، بېشکه چې الله ښه مغفرت کوونکی (د ګناهونو) پوره رحم کوونکی دی.

تفسير: د كفر په زمانه كې يوه غلطي دا هم وه، چې مكيان (مكې والا) به تر عرفاته پورې نه تلل، ځكه چې عرفات له حرم څخه د باندې دی، بلكه د حرم په حد كې به چې مزدلفه ده، درېدل، او د مكې شريفې له قريشو څخه پرته نور ټول به تر عرفات پورې تلل، او بيا به له عرفات څخه د طواف لپاره مكې شريفې ته راتلل، نو ځكه يې وفرمايل: «له هغه ځايه چې ټول خلق دطواف لپاره راځي، تاسې هم همغه ځای ته ورشئ، او له هغه ځايه (له عرفات) د طواف لپاره بېرته راشئ، او په خپلو پخوانيو ګناهونو باندې نادم اوسئ !».

فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا

نو هر كله چې ادا كړل تاسې افعال د حج خپل، نو يادوئ الله لكه چې يادول تاسې پلرونو خپلو لره (په جاهليت كې په فخر سره) بلكه يادوئ الله په ډېر زيات يادولو سره.

تفسير: يعنې د «ذي الحجة الحرام» په لسمه كې چې د «حج» د افعالو يعنې د جمرو ويشتلو، قرباني كولو، سر خريلو، يا د ويښتانو لنډولو، د كعبې شريفې د طواف، او د صفا او مروى له سعيې فارغ شوئ، نو د منى د قيام په وخت كې د الله تعالى ذكر وكړئ !، لكه چې د كفر په زمانه كې تاسې د خپلو پلرونو او نيكونو ذكر كاوه، بلكه له هغه څخه دې هم زيات ذكر وكړى شي !.

دوى له قديمې زمانې راهيسې داسې عادت درلود، چې د «حج» له فراغت څخه وروسته به درې ورځې په منى كې دېره كېدل، او لوى بازار به يې جوړاوه، او د خپلو پلرونو او نيكونو ستاينه او يادونه به يې كوله، او د دوى لوينې او فضائل به يې بيانول، نو ځكه پاك الله له هسې ويناوو څخه هغوى منع كړل، او ويې فرمايل چې: په دې ورځو كې د الله تعالى ذكر ډېر وكړئ، او د هغه الله جلت عظمته د لويي او عظمت يادونه وكړئ !.

فَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ﴿٢٠٠﴾
وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿٢٠١﴾ أُولَٰئِكَ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّمَّا كَسَبُوا ۚ وَاللَّهُ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٢٠٢﴾

نو ځينې له خلقو څخه هغه څوك دي چې وايي اى ربه ځمونږ ! راكړه مونږ ته په دنيا (لږ ژوند) كې (ځمونږ برخه، مال او جاه) او نشته ده لره په آخرت كې هيڅ برخه، او ځينې له دوى څخه هغه څوك دي چې وايي: اى ربه ځمونږ ! راكړه مونږ ته ! په دنيا (لږ ژوند) كې نيكي(نعمت) او په آخرت كې نيكي (جنت)، او وساته مونږ له عذابه د اور (د دوزخ)، دغه كسان شته دوى لره لويه برخه له سببه د هغو (ښو اعمالو) چې كړي دي دوى (هغه)، او الله ژر اخيستونكى د حساب دى (چې ډېر ژر د ټولو مخلوقاتو حساب خلاصوي).

تفسير: غوښتونكي په دوه ډوله دي: يو خو هغه دي چې د هغوى مطلوب يواځې دنيا ده، او د هغوى دعا هم دغه ده: «هر هغه دولت او عزت چې مونږ ته راكول كيږي، په همدې دنيا كې دې راكړ شي»، نو داسې خلق د آخرت له نعمتونو څخه بې برخې دي، بل هغه دي چې د هغوى مقصود آخرت دى، چې د دنيا ښېګڼې (فائدو) او نيكى يعنې د عبادت توفيق او نور، او د آخرت ښېګڼې (فائدو) او نيكى يعنې ثواب، رحمت او جنت دواړه غواړي، نو داسې كسانو ته په آخرت كې د هغوى د حج او دعا او حسناتو پوره برخه وررسيږي.

وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَّعْدُودَاتٍ

او یادوئ ! الله (د تکبیراتو په ویلو سره) په څو ورځو شمېرل شویو (د تشریق) کې.

تفسیر: له ﴿أَيَّامًا مَّعْدُودَاتٍ﴾ څخه د «ذي الحجة الحرام» یوولسمه، دولسمه، او دیارلسمه ورځ مراد ده، چې په دې ورځو کې خلق له «حج» څه فارغیږي، او مامور دي چې په «منی» کې واوسیږي، په دې ورځو کې د جمرو ویشتل، او له هر لمانځه څخه وروسته د تکبیراتو ویل اجراء کړئ ! او په نورو وختونو کې هم دلته تکبیر او تهلیل په ډېر محبت سره ووایئ !، او د پاک الله په ذکر کې کثرت او مداومت وکړئ !.

فَمَن تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ لِمَنِ اتَّقَىٰ

نو هر چا چې بېړه (تلوار) وکړه (په تلو کې له منی مکې ته)په دوو ورځو کې (چې «١١» «١٢» د ذي الحجې دي) نو نشته هیڅ ګناه پر دغه تلوار کوونکي، او هر چا چې تأخیر وکړ (او درې ورځې په منی کې پاتې شو) نو نشته هیڅ ګناه په ده باندې، دا بېګناهي هغه چا لره ده، چې پرهېز یې کړی وي (له مناهیو څخه).

تفسیر: ګناه خو دا ده چې له شرعي ممنوعاتو څخه پرهېز ونه کړئ، او هغه څوک چې له الله تعالی څخه ووېرېږي، او په تېره بیا د «حج» په وخت کې تقوی او پرهېزګاري هم وکړي، نو بیا په دې خبره هیڅ نه ګناهګاریږي ؛ چې په «منی» کې دوه ورځې هستوګنه وکړي، یا درې ورځې پکې واوسیږي، ځکه چې الله تعالی دا دواړه جایز فرمایلي دي، ولې افضل او بهتر خو په «منی» کې د درې ورځو قیام دی.

وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ

او (تل) وویرېږئ ! له الله څخه، او پوه شئ چې بېشکه تاسې خاص الله ته ورټولېږئ (په قیامت کې د مکافاتو «جزا او سزا» لپاره).

وَمِنَ النَّاسِ مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ
وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ
وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ

او ځینې له خلقو څخه هغه څوک دي چې په تعجب کې آچوي تا خبره د ده په (کارو د دې) ژوندون لږ کې، او شاهد کوي دې الله په هغه شي چې په زړه د ده کې دي، حال دا چې دی ډېر سخت دی په جګړه او عداوت کې، او کله چې بېرته وګرځي (له تانه ای محمده !) نو ګرځي په ځمکه (د مدینې) کې لپاره د دې چې فساد وکړي په ځمکه کې، او هلاکوي کښت (فصل) او ساکښان (ذي روح) (په سوځولو او وژلو سره) حال دا چې الله نه خوښوي فساد (او معصیت).

او کله چې وویل شي ده ته: چې وویرېږه له الله ! نیسي دی غرور (عار او ننګ په کولو د) ګناه، بس کافی دی ده لره (عذاب د اور) د دوزخ او هرومرو (خامخا) بد بستر دی (دا اور د دوزخ).

تفسير: دا حال د منافق دی، چې په ښکاره سره خوشامندي او تعلق کوي، او الله تعالی ځانته شاهد ګرځوي، او وايي چې: زه «ربښتين يم، او په زړه کې مې د اسلام محبت دی»، خو د جګړې، دارې، غلا، لوټ او تالان ځنې هم خپل مخ نه اړوي، او که له هسې چارو يې څوک منع کړي؛ نه منع کيږي، بلکه ضد او مخالفت کوي، او په خپلو بدو چارو کې ترقي کوي.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِيْ نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿٢٠٧﴾

او ځنې له خلقو ځخه هغه څوک دي چې خرڅوي نفس خپل لپاره د طلب د رضا د الله (چې له خپله ځانه او ماله تېريږي)، او الله ډېر مهربان دی پر بندګانو باندې (چې د ده په توفيق له ځانه او ماله تېريږي).

تفسير: وايي چې صهيب رومي (رضي الله عنه) غوښتل چې د هجرت په اراده د رسول الله صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم حضور ته حاضر شي، په لار کې د مشرکينو په لاس کښيوت (راګير شو)، صهيب رضي الله تعالى عنه هغوی ته وويل: «زه خپل کور او ټول مال تاسو ته په دې شرط درکوم، چې ما خوشې کړئ ! چې مدينې ته لاړ شم، او له هجرت ځخه مې مخه مه نيسئ !»، په دې باندې هغوی راضي شول، او صهيب رضي الله تعالى عنه يې پرېښود چې د رسول صلى الله عليه وسلم په حضور مشرف شي، نو دا آيت د مخلصينو په تعريف کې نازل شوی دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً ۪

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو) ننوځئ ! په اسلام کې (دهغه له ټولو شرايطو سره) ټول.

تفسير: يعنې په ظاهر او باطن، او په عقيده او عمل کې يواځې د اسلام د احکامو متابعت وکړئ !، او نه چې په خپل سر او عقل، يا د بل چا په خوله کوم حکم ومنئ !، يا کوم کار وکړئ !، نو له دې ځنې «بدعت» قلعه او قمعه او له بېخه ويستل مقصود دي، ځکه چې «بدعت» په حقيقت کې همدا شی دی، چې د بل چا کومه عقيده يا کوم عمل چې نه او مستحسن وګڼلې (وګڼلی) شي، هغه له خپل لوري په دين کې داخل کړی شي، مثلا لمونځ او روژه چې أفضل د عبادتونو دي، که بې له شرعي حکمه يې څوک له خپله ځان مقرر کړي بدعت دی، لکه د اختر په ورځ په عيدګاه کې په نفلونو باندې امر ورکول، يا د اخترونو په ورځو کې د روژې نيول.

وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٢٠٨﴾

او مه کوئ پيروي د قدمونو د شيطان ! بېشکه دا (شيطان) تاسې لره دښمن دی ښکاره.

تفسير: يعنې په خپلې وسوسې سره بې اصله شيان ستاسو په زړونو کې اچوي، او په دين کې بدعتونه شاملوي، او دين مو خرابوي، او تاسې هم هغه غوره کوئ.

فَاِنْ زَلَلْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْكُمُ الْبَيِّنٰتُ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٠٩﴾

بيا که وښويېدئ تاسې وروسته له هغه چې راغلي دي تاسې ته ښکاره دلائل؛ نو وپوهېږئ چې بېشکه الله ډېر غالب دی (په انفاذ د احکامو) لوی حکمت والا دی (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأْتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِى ظُلَلٍ مِّنَ ٱلْغَمَامِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿٢١٠﴾

انتظار نه کوي دوی مګر دې ته چې راشي دوی ته الله په سیورو کې له وریځو څخه او (راشي دوی ته) پرښتې (د عذاب) او خلاص شي کار (د اهلاک د دوی) او (خاص) الله ته بېرته ګرځول کیږي ټول کارونه (په قیامت کې د مجازاتو لپاره).

تفسیر: یعنې هغه کسان چې د حق تعالی له دې صافو او ښکاره وو احکامو ځنې مخالف کار کوي، او له خپل کاږه تګه نه اوړي، او سمې صافې لارې ته نه راځي، نو دوی په پاک قرآن او رسول معظم صلی الله علیه وسلم باندې یقین او باور نه لري، اوس ګواکې دوی دې خبرې ته سترګې نیولي دي، چې خپله الله تعالی او د هغه پرښتې پر دوی باندې راشي، او د جزا او سزا کومه واقعه چې په «قیامت» کې راتلونکې ده، هغه په همدا نن ورځ پای (آخر) ته ورسیږي، او فیصله شي، خو بالآخره د ټولو امورو حساب او کتاب، ثواب او عقاب، او د ورتګ ځای همغه رب الأرباب دی، او د ټولو مرجع او مآب همغه عزیز الوهاب دی، او ټول احکام د همغه الملک القادر له حضوره صادریږي، او په دې کې هیڅ یوه د تردد خبره نشته.

سَلْ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ كَمْ ءَاتَيْنَٰهُم مِّنْ ءَايَةٍۭ بَيِّنَةٍ ۗ

پوښتنه وکړه (ای محمده !) له بني اسرائیلو څخه: چې څومره ورکړي دي مونږ دوی ته له دلائلو څرګندو څخه؟.

تفسیر: له دې نه یې پخوا فرمایلي وو چې د حق تعالی د صاف حکم له ښکاره کېدلو څخه وروسته، له هغه ځنې مخالفت، د عذاب موجب دی، اوس د هغه په تایید کې فرمایي چې: په خپله له بني اسرئیلو اولاده د یعقوب ځنې پوښتنه وکړي، چې مونږ دوی ته څومره ښکاره آیات او صریح او واضح احکام رالېږلي دي؟ کله چې دوی له هغو ځنې منحرف او چپ شول، نو ځمونږ په عذابو اخته شول، او داسې نه دی چې مونږ پخوا له نافرمانی څخه هغوی په عذاب اخته کړي وو.

وَمَن يُبَدِّلْ نِعْمَةَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٢١١﴾

او هر څوک چې بدل کړي نعمت د الله (په نا شکرۍ سره) وروسته له هغه چې راغلی وو دا (نعمت) ده ته، نو بېشکه الله؛ سخت دی عذاب (د ده).

تفسیر: یعنې دا قاعده خو خامخا محققه ده، هر هغه څوک چې د پاک الله له احکامو او هداياتو څخه مخالفت کوي، یا یې آیات بدلوي، او د هغه د احساناتو او انعاماتو کفران کوي، نو بیا د هغه عذاب ډېر سخت دی، په داسې ډول چې په دنیا کې دې ووژل شي، یا دې کور او مال لوټ کړ شي، یا دې جزیه پرې کېښوده شي، چې تل خوار او ذلیل واوسیږي، په عقبی کې همېشه تل تر تله په دوزخ کې پاتې کیږي.

فائدة: له نعمت رسېدلو څخه دا مطلب دی چې په هغه باندې یې علم حاصل شي، یا بې له تکلفه یې په لاس ورشي.

زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَيَسْخَرُونَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۘ

ښایسته کړی شوی دی هغو کسانو لره چې کافران شوي دي دغه ژوند لږ خسیس، او مسخرې کوي دوی پر هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (په سبب د فقر د دوی او غنی خپلې).

تفسير: هر كله چې به د مشركانو مشران پر «بلال رضي الله تعالى عنه» يا «عمار رضي الله تعالى» عنه يا «صهيب رضي الله تعالى عنه»، يا د مهاجرينو پر نورو فقراوو رضوان الله تعالى عليهم أجمعين باندې تېرېدل، يا به يې دوى ليدل، نو پر دوى باندې به يې تمسخر كاوه، او خندل به يې، او ويل به يې چې: «دغه ناپوهانو ته وګورئ ! چې د آخرت په خيال د دنيا تكاليف، او مصائب پر ځانو باندې اخلي، او محمد صلى الله عليه وسلم ته وګورئ ! چې ددغو فقيرانو په ملګرتوب غواړي چې د عربو پر مشرانو برى وموميږي، نو ځكه دوى تل د غلبې په فكر كې لګيا، او د دنيا د اصلاح په چورت كې مشغولتيا لري».

وَالَّذِينَ اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢١٢﴾

او هغه كسان چې يې ساتلي دي (ځانونه له شركه) د پاسه د دوى (يعنې كفارو) به وي په ورځې د قيامت كې، او الله روزي وركوي هغه چا لره چې اراده وكړي بې له حسابه (ډېره پراخه).

تفسير: الله تعالى د هغوى په ځواب كې ارشاد فرمايي: دوى نه پوهيږي چې همدا فقيران او غريبان به د قيامت په ورځ له دوى ځنې اعلى او لوړ وي، او الله تعالى په دنيا او عقبى كې هغه چاته چې اراده وفرمايي بېشماره رزق او روزي وركوي.

كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً ۖ فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ ۖ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ ۚ وَمَا اخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا الَّذِينَ أُوتُوهُ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ ۖ فَهَدَى اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا لِمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِهِ ۗ وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ﴿٢١٣﴾

وو ټول خلك (په ابتدا كې) ټولى يو په يوه حق دين(بيا ځنې كافران او ځنې مسلمانان پاتې شول) پس ولېږل الله انبيا زيري وركوونكي (مؤمنانو ته په نعيم سره) او وېروونكي (كافرانو ته په جحيم سره)، او راويې لېږه له دوى سره كتاب(بيانوونكى ددين) په حقه سره، لپاره ددې چې حكم وكړي (الله يا نبي يا كتاب) په مينځ د خلكو كې په هغه كار كې چې اختلاف كړى دى دوى په هغه كې، او اختلاف نه دى كړى په هغه (حق يا كتاب يا اسلام) كې مګر هغو كسانو چې وركړى شوى وو دوى لره كتاب، (اختلاف يې چې كړى وو) وروسته له هغه چې راغلي وو دوى ته دليلونه ښكاره په سبب د كينې په مينځ د دوى كې، پس سمه صافه لاره وښوولە الله هغو كسانو ته چې ايمان يې راوړى دى هغه شي ته چې جګړه كړې وه دوى په هغه كې (چې عبارت دى له حقه) په اذن (حكم) خپل سره، او الله هدايت كوي هغه چا ته چې اراده (يې د هدايت) وكړي طرف د لارې سمې ته.

تفسير: د آدم عليه السلام له وخته راهيسې همدا يو حق دين پاتې دى، وروسته له هغه څخه تر يوې مودې پورې هغه دين پاتې وو، او بيا خلقو په هغه كې اختلاف وكړ، نو پاك الله د هغو د اختلافاتو د لرې كولو لپاره خپل انبياء ولېږل.

فائدة: له دې آيت ځنې دوه خبرې معلوميږي:

(١) دا چې الله تعالى هغه رسولان او متعدد كتابونه چې رالېږلي يي دي، ددې لپاره نه دي چې د هرې فرقې لپاره بېله لاره وښيي، بلكه ټولو لره الله تعالى اصلا همماغه يوه لاره مقرره كړېده، كله چې دوى له هغې سمې لارې ځنې وښوئېدل، نو الله تعالى دوى ته بيا رسول صلى الله عليه وسلم او كتاب ورولېږل، چې

سم د هغو له احکامو سره تګ وکړي، کله چې وروسته له هغه هغوی بیا ګمراهان شول، بیا بل نبي علیه السلام او بل کتاب الله دوی ته وروا‌ستول شو، چې دوی په یوه لاره باندې قائم پاتې شي، ددې خبرې مثال داسې دی چې روغتیا یوه ده، او ناروغي ګڼې بېشمارې دي، کله چې یوه ناروغي پیدا شوه نو سم د هغه له علاجه سره یې یوه دوا او پرهېز وفرمایه، څه وخت چې بل کوم مرض پیدا شو نو له هغه سره یې بله دوا او پرهېز وټاکه (مقرر کړ)، اوس یې په آخر کې هسې یوه طریقه او قاعده وفرمایله، چې په هغې سره له ټولو ناروغیو نجات ممکن دی، او د ټولو په بدل کفایت کوي، او هغه د اسلام پاکه طریقه ده، چې د هغې لپاره آخر الزمان رسول صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم او دا عظیم الشان فرقان لېږلی شوی دی.

(۲) دا خبره معلومېږي چې د الله تعالی همدا سنت جاري دي، چې بدانو د رسولانو په خلاف په هر وخت او هره زمانه کې کار کاوه، او د هر آسماني کتاب په نسبت به یې اختلاف درلود (لرلو)، او دحق او حقانیت په نسبت به یې تل جنګ او جګړې کولې، او په همدې کې به بوخت (مشغول) او لګیا وو، نو اوس نه ښایي چې د ایمان اهل د کافرانو له بد سلوکۍ او فساد څخه زړه تنګي او خفه شي.

أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ۖ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّىٰ يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَىٰ نَصْرُ اللَّهِ ۗ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ ﴿٢١٤﴾

آیا ګمان کوئ تاسې(ای مؤمنانو !) چې ننه به وځئ تاسو جنت ته، حال دا چې راغلي به نه وي په تاسې باندې په مثل (د سختیو) د هغو کسانو چې تېر شوي دي پخوا له تاسې نه، چې رسیدلې وه دوی ته سختي (لکه فقر) او رنځ، او ګرځول شوي وو دوی (په سختیو سره) تر هغه پورې چې ویل به (هم) رسول او (هم) هغو کسانو چې ایمان یې راوړی وو سره له ده چې: کله به وي نصرت د الله؟ خبردار شئ ! واورئ ! چې بېشکه نصرت د الله نږدې دی (مؤمنانو ته).

يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ ۖ

پوښتنه کوي له تا نه (ای محمده ! مؤمنان) چې څه شی خرڅ کړي دوی (په لاره د الله کې؟).

تفسیر: په پخوانیو آیتو کې په کلي ډول دا مضمون په ډېر تاکید سره بیان شو چې کفر او نفاق پرېږدئ !، او په اسلام کې په پوره ډول سره ننوځئ، او د پاک الله جل جلاله د حکم په مقابل کې بل د هیڅا خبرې ته غوږ مه ږدئ !، او د الله تعالی په خوښۍ کې خپل ځان او مال جار (قربان) کړئ !، او هر راز شدت او تکلیف پر ځان باندې واخلئ !، له دې ځای نه وروسته ددې کلیې په نسبت د جزئیاتو تفصیل بیانېږي، چې د ځان او دمال او نورو معاملاتو په نسبت لکه نکاح، طلاق، او نورو پورې تعلق لري، چې ددې کلیې تحقیق او تاکید په ښه ډول سره په زړه کې کښینې.

قُلْ مَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ ۗ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ﴿٢١٥﴾

ووایه (ای محمده !) هر شی (لږ یا ډېر) چې صرفوئ (خرچ کوئ) تاسې له مالو څخه؛ نو (یې صرف کړئ) لپاره د مور او پلار او (لپاره د) خپلوانو او (لپاره د) یتیمانو او مسکینانو (چې څه شی

نه لري) او (لپاره) مسافرانو، او هر هغه څه چې (يې) کوئ تاسې له نېک کاره؛ نو بېشکه چې الله په هغه باندې (لکه په نورو اشياوو) ښه عالم دی.

تفسير: ځينې اصحاب چې مالداران وو، له رسول اکرم صلى الله عليه وآله وصحبه وسلم ځنې يې پوښتنه وکړه چې: له مال ځنې مونږ څه صرف کړو؟ او په څه شي باندې يې ولګوو؟ نو ځکه داسې حکم وشو، چې لږ يا ډېر هر څه چې د الله تعالى لپاره صرفوئ (خرچ کوئ)، هغه د مور او پلار او أقاربو او يتيمانو، او محتاجانو او مسافرانو لپاره دي، يعنې که د ثواب د حصول لپاره يې ښندل او صرفول غواړئ، نو هغومره مو چې زړه غواړي صرف يې کړئ !، د هغه لپاره څه تعيين او تحديد نشته، هو ! دا ضروري ده چې هغه په همغو مواقعو باندې صرف کړ شي، چې مونږ يې درښيو !.

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ

فرض کړی شوی دی پر تاسې باندې جنګ کول (له کفارو سره).

تفسير: يعنې د دين له دښمنانو سره جنګېدل فرض کړی شوي دي.

فائده: تر هغه وخت پورې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په مکې شريفې کې اوسېده، په جنګ سره مجاز نه وو، کله چې يې مدينې منورې ته هجرت وفرمايه، نو دوی ته د مقاتلې اجازه وشوه، مګر يواځې د هغو کفارو په مقابل کې چې له مسلمانانو سره جنګيږي، وروسته تر دې له ټولو کفارو سره د مقاتلې اجازه وشوه، او «جهاد» فرض شو، او که د دين دښمنان پر مسلمانانو برید او تعرض وکړي، نو پر مسلمانانو باندې «جهاد» فرض عين ګرځي، که نه فرض کفايي دی، ولې په دې شرط سره چې د «جهاد» هغه ټول شرطونه وموندلی شي، چې په فقهيه وو کتابونو کې راغلي دي، هو ! هغه خلق چې له هغو سره مسلمانان مصالحه وکړي، يا له دوی سره معاهده ولري، يا کفار د مسلمانانو تر حفاظت او امن لاندې راشي؛ نو له هسې کفارو سره جنګېدل، يا د دوی په مقابله کې د دوی له مخالفينو سره مرستې (مدد) کول؛ مسلمانانو ته هيڅکله روا نه دي.

وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ

حال دا چې دغه (جنګ) بد ښکاري تاسې ته.

تفسير: د بد ښکاره کېدلو مطلب دا دی چې: پر نفس باندې سخت او دروند معلوميږي، دا نه چې د رد او د انکار وړ په نظر راځي، او له حکمت او مصلحت څخه مخالف وربښکاري، او د تنفر او خفګان موجب وي، نو په دومره خبره باندې پر هيڅا باندې هيڅ الزام نشته، ځکه چې انسانان بالطبع له ژوندانه سره ډېر عشق او مينه لري، او بل هيڅ شی له ژوندانه سره نه برابروي، نو ځکه جنګ او مقاتله انسانانو ته فطرتا دروند او سخت کار ښکاري.

وَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰ أَن تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢١٦﴾

او ښايي چې بد ګڼئ تاسې يو شی حال دا چې هغه ډېر بهتر وي تاسې لره، او ښايي چې ښه وګڼئ تاسې يو شی، حال دا چې هغه به ډېر بد وي، تاسې ته، او الله عالم دی (په خير ستاسې) او تاسې نه پوهېږئ (په خير خپل).

تفسير: يعنې دا خبره ضروري نه ده، چې هر هغه شی چې تاسې يې خپل ځان ته نافع يا مضر وګڼئ، هغه په رښتيا سره هم ستاسې په حق کې همغسې وي، بلکه کيدای شي، چې تاسې يو شی د خپل ځان لپاره بد وګڼئ، او هغه په واقع کې

مفيد وي، يا كوم شى تاسې ښه وګڼئ، او هغه په حقيقت کې مضر وي، دا چې تاسې وايئ: «په جهاد کې د ځان، او مال دټولو شيانو نقصان دی، او د (جهاد) په پرېښودلو او ترک کې د ټولو حفاظت دی»؛ خوشې يو چټي او فضول خيال دی، تاسې نه پوهېږئ چې په جهاد کې د دنيا او آخرت لوی لوی منافع شته، او د جهاد په ترک کې ډېر ډېر نقصانات دي، ستاسې په ګټه او تاوان، نفعه او نقصان باندې يواځې الله (تعالى جلت كلمتُه) ډېر ښه پوهيږي، او تاسې نه پرې پوهېږئ، نو ځکه هر هغه حکم چې الله تعالى يې پر تاسې کوي، هغه خامخا حق دی، او تاسو يې د زړه له کومې ومنئ، او په هسې چټي (بېکاره) خيالاتو پسې مه ګرځئ !.

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ ؕ

پوښتنه کوي خلق له تا نه (ای محمده !) له مياشتې حرامې څخه له جنګ کولو په دې کې (چې روا دی که ناروا؟).

تفسير: فخر عالم صلى الله عليه وآله وصحبه وسلم د مسلمانانو يو ټولی د کفارو د مقابلې لپاره ولېږه، دوی کفار ووژل، او مالونه يې په غنيمت سره راوړل، مسلمانان ښه پوهېدل چې هغه د «جهاد» وخت د جمادى الأخرى وروستنى عشره، او د رجب المرجب اوله شپه ده، کافرانو ددې په نسبت په طعنې ويلو باندې پيل (شروع) وکړ: چې محمد صلى الله عليه وسلم حرامه مياشته حلاله کړه، او خپلو امتيانو ته يې حکم ورکړی دی چې په اشهر الحرم کې دې هم له خلکو سره جګړې وکړي، او د دوی مالونه دې په ولجه (غنيمت) او لوټ يوسي، په دې ملحوظ مسلمانان د رسول أكرم صلى الله عليه وآله وصحبه وسلم په حضور کې حاضر او پوښتنه يې وکړه چې: «اوس څه حکم دی؟ له مونږ څنې خو اشتباها دا کار صادر شوی دی؟» په دې تقريب دا آيت نازل شو.

قُلْ قِتَالٌ فِيْهِ كَبِيْرٌ ؕ

ووايه (ای محمده ! دغو سائلينو ته) چې جنګ کول په دې (أشهر الحرم) کې (عمدا) لويه ګناه ده.

تفسير: يعنې په حرامه مياشته کې جنګېدل، خو بېشکه د ګناه خبره ده، ولې لويو أصحابو رضي الله عنهم سم له خپلو پوهنو سره په جمادى الثاني کې «جهاد» کړی وو، او په حرام مياشته کې يې چې رجب المرجب دی؛ نه وو کړی، نو د دې له امله (وجهې) د عفوې مستحق دي، او په دوی باندې هيڅ يو الزام نه اوړي، نو په هغوی داسې الزام لګول بې انصافي ده.

وَصَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَكُفْرٌ بِهٖ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۗ وَاِخْرَاجُ اَهْلِهٖ مِنْهُ اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ

او منع کول له لارې (دين) د الله څخه، او کافر کېدل په الله، او (منع کول له) مسجد حرام نه، او ايستل د اهل د مسجد حرام له ده څخه (ګناه) ډېره لويه ده، په نزد د الله (له قتاله په أشهر الحرم کې).

تفسير: يعنې د اسلام څخه د مسلمانانو ممانعت، او پخپله د اسلامي ديانت څخه بغاوت، او د بيت الله شريف د زيارت څخه د خلکو مخ نيول، او د مکې معظمې اوسيدونکې د باندې شړل؛ دا خبرې د أشهر الحرم له مقاتلې څخه هم لويې ګناوې دي، او حال دا چې کفار پرله پسې هسې کارونه کوي، لنډه يې دا چې «په حرامه مياشته کې بې سببه او نا حقه جنګېدل خو بېشکه لويه ګناه ده، مګر هغه خلق چې په حرم شريف کې کفر خپروي (خوروي)، او لوی لوی فسادونه په کې کوي، او په اشهر الحرم کې هم د مسلمانانو د (آزارولو) څخه لاس نه اخلي، نو له هسې کفارو سره د جنګېدلو

ممانعت نشته، برسېره په دې کله چې پخپله مشرکان په داسې بدو أمورو کې لګيا دي، نو په داسې يوه وړوکي ګناه باندې، چې هغه هم د لا علمی له امله واقع شوې ده، پر مسلمانانو باندې دداسې ظالمانو او متجاوزو (حد نه تېرېدونکو) کافرانو له لوري طعنې وهل؛ د شرم او تعجب خبره ده».

وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ

او فتنه (له دين څخه د خلقو ايستل) ډېره لويه (ګناه) ده له جنګ څخه.

تفسير: يعنې په دين کې فتنه او فساد اچول چې خلق له دين څخه وګرځي، له هغه قتل نه چې له مسلمانانو څخه سهوا په حرامه مياشت کې واقع شوی دی؛ په څو درجو بد دی.

مشرکانو داسې عادت درلود، چې د اسلامي دين په خبرو کې يې راز راز شبهې او خدشې پيدا کولې، څو نور خلک په شبهو کې ولويږي، او د اسلام دين ونه منې، لکه چې په همدې پېښه کې چې دځينو مسلمانانو له لوري سهوا په أشهر الحرم کې واقع شوې وه، مشرکانو ډېرې خبرې وکړې، او له دې ويناوو ځنې د هغوی مقصد دا وو چې نور خلک د اسلام له قبلولو ځنې متنفر کړي، نو يې لنډه داسې شوه: «په هغه قتل باندې چې د مسلمانانو له لاسه صادر شو؛ مشرکان پيغورونه ورکوي، چې خلق د حق دين له لارې واړوئ، حال دا چې دا د دوی فتنه، او له حق دين ځنې لغځول (ښويول) له قتل څخه په څو درجو مذموم او شنيع دی».

وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا

او همېشه به وي دوی (يعنې کافران) چې جنګ به کوي دوی له تاسې سره تر هغه پورې چې بېرته وګرځوي دوی تاسې له دينه ستاسې که يې لاس ورسيږي (او موقع وموميٰ).

تفسير: يعنې تر څو چې تاسې په حق دين باندې قائم اوسېږئ، دا مشرکان په هيڅ يوه حالت او په هيڅ يوه موقع کې، ستاسې له مقاتلې او مخالفت څخه لاس نه اخلي، اګر که د مکې معظمې په حرم شريف او أشهر الحرم کې هم وي، لکه چې د حديبيې په عمره کې يې همداسې وکړل، چې کافرانو نه د مکې شريفې حرمت وساته، او نه يې د حرامو مياشتې څه لحاظ وکړ، او بې سببه يې يواځې د بغض او عناد له امله قتل او جدال ته ملاوې وترلې، او مسلمانان يې مکې شريفې ته له ورتګ څخه ستانه کړل، او پرې يې نه ښودل چې عمره ادا کړي، بيا نو دداسې معاندينو طعنې او بد ويلو ته نه ښايي چې څه اهميت ورکړ شي، او نه ښايي چې له هغوی سره په أشهر الحرم کې له مقاتلې کولو څخه ډډه (څنګ) وشي.

وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۖ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢١٧﴾

او هر څوک چې وګرځي له تاسې نه له دينه خپل، پس مړ شي حال دا چې دی کافر وي، نو دغه کسان ضايع شوي دي (تېر) عملونه د دوی په دنيا او آخرت کې، او دغه کسان صاحبان د اور (د دوزخ) دي هم دوی به په دې (اور) کې همېشه وي.

تفسير: يعنې له اسلامي دين څخه غاړه غړول او په کفر باندې تر آخره پورې ټينګ پاتې کېدل داسې يوه سخته بلا ده، چې د ګرد عمر نيکي له منځه وړي، په دنيا کې د هغوی مال او ځان محفوظ نه پاتې کيږي، نکاح يې فسخ کيږي، له ميراث ځنې يې برخې پاتې کيږي.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ اللَّهِ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢١٨﴾

بېشکه هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی او هغه کسان چې هجرت يې کړی دی، او جهاد يې کړی دی په لاره (دین) د پاک الله کې، دغه کسان امید لري دوی د رحمت (مهربانۍ) د الله او الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) پوره رحم کوونکی دی.

تفسیر: له لومړني آیت څخه پورتنیواصحابانو ته دا خبره معلومه شوه چې پر مونږ باندې په دې باره کې هیڅ مؤاخذه نشته، مګر په دې تردد کې پاتې وو چې: آیا مونږ ته د هغه «جهاد» چې مونږ کړی دی ثواب رارسیږي که نه؟ نو دا آیت نازل شو، هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی، او هجرت يې کړی دی، او د الله تعالی لپاره يې د کوم شخصي غرض څخه يې د هغه له دښمنانو سره «جهاد» کړی دی، نو دوی بېشکه د الله تعالی د رحمت امیدوار، او د هغه مستحق دي، او پاک الله د خپلو بندګانو خطاوې بخښي، او پر دوی باندې رحم کوونکی دی، نو الله تعالی به هسې مطیعان او حکم منونکي بندګان نه محروموي.

يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ۖ

پوښتنه کوي دوی له تا نه (ای محمده !) (له حکمه د څښلو) د شرابو، او (له کولو د) قمار نه.

تفسیر: د شرابو او قمارو (جواري) په نسبت څو آیتونه نازل شوي دي، او په هر یوه کې د هغو خرابي رابښکاره شوې ده، آخر يې د (المائدة) په (٩٠) آیت (١٢) رکوع کې په ښکاره ډول سره ممانعت وکړ شو، نو ټول هغه شیان چې نشه راوړونکي دي له یوه مخه حرام دي، او هغه شرطونه چې په کوم شي باندې ترل کیږي، او ګټل او بایلل په کې وي؛ حرام دي، او یوه طرفه شرط ترل حرام نه دي.

قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا ۗ

ووایه (ای محمده ! دوی ته) په دې دواړو کې ګناه لویه ده، او ګټې دي لپاره د خلقو، او ګناه د دې دواړو ډېره لویه ده له ګټې دی دواړو نه.

تفسیر: د شرابو له څښلو څخه هغه عقل چې انسان له ټولو بدو امورو څخه ځان پرې ژغوري (ساتي)، زائل کیږي، او سړی د «مأمور به» پرېښولو او د ممنوع عنه کولو ته باعث کیږي، چې جنګ، قتل، او نورې خرابۍ ترې پیدا کیږي، او راز راز هسې روحاني او جسماني ناروغۍ ورځني ځیږي، چې ډېر ځلې د هلاکت موجب ګرځي، او په قمار کې د حرام مال خوړل، غلا کول، او د مال او عیال تضییع او یو له بل سره دښمني مینځ ته راځي، او راز راز ظاهري او باطني مفاسد ترې پیدا کیږي، هو ! په دوی کې څه سرسري ګټې هم شته، مثلا د شرابو له څښلو څخه مؤقتا خوند، لذت، خوښي او سرور ورحاصلیږي، او له قمار وهلو ځنې بې له مشقته ویړیا مال او شته په لاس ورځي.

وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ ۖ قُلِ الْعَفْوَ ۗ

او پوښتنه کوي دوی (ای محمده !) له تا ځنې چې څومره خرڅ کړي دوی (په لاره د الله کې؟) ووایه (ای محمده ! دوی ته: صرف کړی هغه چې وي) زیات (ستاسې له خرڅ نه).

تفسیر: ځمونږ له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه خلقو داسې پوښتنې کړې وې چې: «د الله تعالی لپاره څومره مال صرف کړ شي؟» حکم وشو چې: «هغه مال د پاک الله په لاره کې صرف کړئ ! چې ستاسې له ضروري مصارفو څخه زیات وي»، ځکه څنګه چې د آخرت فکر یو ضروري او حتمي کار دی، ددنیا فکر هم یو ضروري کار دی.

هو ! که تاسې خپل ټول مال په یوه لاره کې صرفوئ، نو خپل ضروریات به څرنګه پوره کړی شئ؟ او هغه حقوق چې په تاسې باندې لازم دي، هغه به څنګه ادا شي؟ او په دې تقدیر: الله تعالی خبر دی چې د دنیوي او اخروي په څه راز راز خرابیو کې به اخته کېږئ.

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ۝٢١٩ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ

همداسې (مخکنې بیان په شان) بیانوي الله تاسې تـه احکام لپاره د دې چې تاسې فکر وکړئ د (الله تعالی په دلائلو او احکامو کې) په (کارونو د) دنیا او آخرت کې.

تفسیر: یعنې فاني دنیا خو د حوائجو ځای دی، او باقي عقبی خو د ثوابونو ځای دی، نو ځکه په ډېر فکر او اندېښنه سره ښایي چې په هر امر کې سم د هغه له حال سره مال صرف کړ شي ! او اخروي او دنیوي مصالح دې دواړه په نظر کې ونیول شي.

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْيَتٰمٰى ؕ

او پوښتنه کوي دوی له تانه (ای محمده ! له معاملاتو د) یتیمانو؛

تفسیر: ځینو خلقو به د یتیمانو په مالو کې احتیاط نه کاوه نو د هغه په نسبت داسې حکم صادر شو ﴿وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ﴾ او ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا﴾ الآیه –دلته هغه کسان چې د یتیمانو پالنه یې کوله وو هر ډول او د هغوی ډوډۍ او نور لګښت (خرچه) یې له خپله ځانه بیخي جلا کړه، ځکه چې د یتیمانو مالونه د شرکت په حالت کې خوړل کېدل، دلته داسې یوه سختي پېښه شوه چې کوم شی به یتیم لپاره تیار ښده د هغه پاتې برخه به غوځار ښده، او په دا رنګه احتیاط کې د یتیمانو نقصان کېده، نو ځمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کې دا خبره عرض شوه؛ نو ددې په نسبت دا آیت نازل شو:

قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ؕ وَاِنْ تُخَالِطُوْهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ ؕ

ووایه (ای محمده ! دوی ته چې سمول (برابرول) او ساتل او) اصلاح د مال د دوی بهتر دي (له بېزاری نه)، او که یو ځای کړئ (خرڅ د) دوی (له ځانه سره نو) دوی وروڼه ستاسې دي، او الله ته معلوم دی ضایع کوونکی د (مال له) اصلاح کوونکي نه.

تفسیر: یعنې مقصود خو یواځې هم دا خبره ده؛ چې د یتیم د مال اصلاح، اداره، او ساتنه دې په ښه ډول سره وکړی شي !، نو هر وخت چې په جداوالي کې د یتیم ګټه وي، هغه دې اختیار او غوره کړی شي ! او چېرې چې په شرکت کې د یتیم خیر او ښېګڼه (فائده) ولیده شي، نو د هغه خرڅ هم د خپل ځان له خرڅ سره ګډ کړی شي !، په دې کې هیڅ یوه مضائقه او خبره نشته چې کله تاسې د هغوی له خوړو څخه وخورئ !، او کله په دوی باندې له خپلو خوړو ځنې وخورئ !، ځکه چې هغه یتیمان خو ستاسې دیني یا نسبي وروڼه او خویندې دي، او د وروڼو ګډون په خوړلو کې څه بده خبره نه ده، هو ! دا یوه ضروري خبره ده چې دیتیمانو د اصلاح او ګټو رعایت دې په پوره ډول سره وکړی شي !، او پاک الله ښه عالم دی چې په دې شرکت کې د چا مقصود خیانت او د یتیم د مال فساد دی؟ او د چا منظور د یتیمانو اصلاح او دوی ته نفع رسول دي؟

وَلَوْ شَآءَ اللَّهُ لَأَعْنَتَكُمْ ۗ

او كه اراده كړي واى الله (دمشقت ستاسې) نو خامخا به يې مشقت راوستلى وو په تاسې باندې.

تفسير: مشقت راوستل يعنې په خوړلو او څښلو كې به يې د يتيمانو مشاركت د اصلاح په توګه (طور) هم مباح نه ګرځاوه، يا دا كه بې علمه او بې قصده به په كې كوم كمواليۍ يا ډېر والي پېښېده؛ په هغه كې به يې هم مؤاخذه كوله.

إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٠﴾

بېشكه چې الله ښه غالب (د احكامو په انفاذ كې قوي) ښه تدبير والا دى (چې هر كار په حكمت او مصلحت سره كوي).

وَلَا تَنكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّىٰ يُؤْمِنَّ ۚ وَلَأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ ۗ وَلَا تُنكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤْمِنُوا ۚ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ ۗ

او په نكاح مه آخلئ ! مشركې ښځې تر هغه پورې چې ايمان راوړي دوى، او خامخا وينځه مؤمنه بهتره ده له مشركې اصيلې ځخه، اګر كه ښه درښكاره شي تاسې ته هغه (كافره)، او په نكاح مه وركوئ (مسلمانانې ښځې) كافرانو ته تر هغه پورې چې ايمان راوړي دوى، او خامخا مريي مؤمن بهتر دى له كافر سړي نه، اګر كه ښه درښكاره شي تاسې ته (هغه كافر).

تفسير: لومړى د مسلمان نارينه له كافرې ښځې سره او د كافر له مسلمې سره د نكاح اجازه وه، په دې آيت سره هغه امر منسوخ شو، كه نارينه يا ښځه مشركه وي، نو د هغې نكاح له مسلمان سره روا جائز نه ده، يا كه وروسته له نكاح ځخه يو له زوجينو ځنې مشرك شي؛ نو پخوانى نكاح ماتيږي.

او مشرك د ډېته وايې چې: يا خو د الله جل جلاله سره د هغه په ذات يا په صفاتو كې بل څوك مشابه او يو شان ګڼي، او يا هم د الله تعالى سره د بندګۍ او عبادت په يو ډول او نوع كې بل څوك شريكوال او برخمن ګڼي، لكه په سجده، سرتېټولو، په غياب كې چيغه وهلو، نذر او منښته منلو، او هر نوع ما فوق الأسباب حاجت غوښتلو او را بلنه كې.

فائدة: د اهل كتابو ښځو سره د مسلمان نارينه نكاح روا ده، ځكه دا د نورو آيتونو ځخه ثابته ده.

أُولَٰئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ ۖ وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِ ۖ وَيُبَيِّنُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٢١﴾

دغه (كافر) كسان بولي (خلق په بد عمل سره) په لوري د اور (د دوزخ)، او الله بولي (خلق) په لوري د جنت او مغفرت په اذن (حكم او ارادې) خپلې سره، او بيانوي احكام خپل خلقو ته لپاره د دې چې دوى نصيحت ومني (پند واخلي).

تفسير: يعنې له مشركينو نارينه وو او مشركانو ښځو سره اختلاط او دهغوى أقوالو ته غوږ نيول، او دهغوى أفعالو ته كتل له هغوى سره نفرت كموي، او دهغوى سره دمينې او محبت سبب ګرځي، او ددې كار انجام دوزخ دې، نو ځكه له مشركانو سره نكاح بيخي حرامه او له هغې ځخه اجتناب لازم كار دي.

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ ۖ قُلْ هُوَ أَذًى ۙ فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ ۙ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ ۖ

او پوښتنه کوي دوی له تا نه (ای محمده !) له (احکامو د) حیض څخه، ووایه (ای محمده ! دوی ته) دا یوه پلیتي ده، نو په څنګ (جدا) شئ (له جماع د) ښځو (خپلو) په وخت د حیض کې، او مه نژدې کیږئ ! (په جماع سره) دوی ته تر هغه پورې چې (ښې) پاکې شي.

تفسیر: «حیض» هغو وینو ته وایي چې له ښځو څخه د هغو له عادت سره سم بهیږي، په دې حالت کې مجامعت، لمونځ، روژه، طواف، د قرآن تلاوت، مسجد ته ننوتل ټول ناروا دي، خو هغه وینه چې بې له عادت څخه لیدل کیږي، هغه ناروغي ده، نو په دې ناروغۍ کې چې د فقهاوو په اصطلاح «استحاضه» وایي؛ دغه پاس ټول ممنوعه شیان راو دی، او د هغې وینې حال هسې دی لکه چې له کوم زخم یا پوزې یا رګ وهلو څخه وینه بهیږي.

یهودانو او مجوسیانو د «حیض» په وخت کې له ښځو سره ډوډۍ خوړل، او په یوه کور کې هستوګنه کول، او نور شیان هم ناجایز ګڼل، مګر نصرانیانو حتي د حائضاتو له مجامعت څخه هم ځانونه نه ژغورل (ساتل)، مسلمانانو په دې مورد کې له رسول اکرم صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم څخه پوښتنه وکړه، نو دا آیت نازل شو، پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ښکاره ډول سره فرمایلي دي چې: د «حیض» په حالت کې مجامعت حرام دی، لیکن له دوی سره خوړل، ځښل، هستوګنه، ناسته ولاړه ټول روا دي، او د یهودانو افراط او د نصرانیانو تفریط دواړه مردود شول.

فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ ۚ

نو هر کله چې ښې پاکې شوې دوی؛ نو راځئ دوی ته (په جماع سره) له هغه ځایه چې حکم کړی دی تاسې ته الله.

تفسیر: له هغه ځای څخه چې د مجامعت اجازه په کې ورکړی شوې ده، یعني د مخ له خوا چې له هغه ځایه کوچنیان (بچي) زیږي، او بل ځای ته راتګ (یعني لواطت) حرام دی.

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ ﴿٢٢٢﴾

بېشکه چې الله خوښوي بیا بیا توبه ایستونکي (له ګناهونو څخه) او خوښوي ځان ساتونکي (له پلیتیو څخه).

تفسیر: یعني هغه کسان چې توبه کوي له هغې ګناه ځنې چې له دوی ځنې اتفاقا صادره شوي وي؛ مثلا د «حیض» په حالت کې د «وطي» مرتکب شوي وي، او هغه کسان چې له ناپاکۍ یعني له ګناهونو او د «حیض» په حالت کې: له «وطي» او د نجسې موقعې له «وطي» ځنې ځان ژغوري (بچ کوي).

نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ ۖ

ښځې ستاسې ځای د کرلو (د نسل) ستاسې دي، نو راځئ ځای د کرلو خپلو ته (چې قُبُل دی) په هرې طریقې سره چې خوښه وشي ستاسې.

تفسیر: یهودانو د شا له لورې په روا ځای کې له ښځو سره مجامعت کول ممنوع ګڼل، او ویل به یې: «که څوک داسې مجامعت وکړي؛ هغه کوچنی (بچی) چې له هسې مجامعت ځنې پیدا کیږي احول (کوږ سترګی) (چپي) به وي»، کله چې ځمونږ پاک رسول الله صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم ځنې په دې مورد کې پوښتنه وشوه، نو دا آیت نازل شو، «یعنې ستاسې ښځې تاسو لره لکه ستاسو کښت (فصل) داسې دي، چې په دوی کې نطفه د تخم په شان او اولاد

د پيداوار غوندې دي، يعنې له هغه ځنې مقصد د نسل پاتې کېدل، او اولاد زېږېدل دي، نو تاسې واک (اختيار) لرئ چې: له خپلو ښځو سره د مخ له خوا، ناسته، يا ملاسته، يا ولاړه، يا په اړخ، يا د شا له لوري، د مخ په خوا په هر ډول مو چې زړه غواړي مجامعت وکړئ !، مګر دا خبره ضروري ده، چې تخم شيندل دې په همغه خاصه موقع کې وي، چې له هغه ځخه مولود موجوديږي، يعنې مجامعت دې هرومرو (خامخا) په فرج کې وشي !، او له لواطت ځنې دی خامخا ځان وژغوري ! (وساتي)، ځکه چې هغه ځای د مرداری او نجاست دی، د يهودانو دا خيال غلط دی چې؛ له هسې مجامعت ځنې احول «چپی» مولود موجوديږي».

وَقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُمْ

او په مخ کې ولېږئ تاسې ! د پاره د ځانو خپلو (نيک عمل) !

تفسير: يعنې صالحه اعمال تل د ځان لپاره کوئ ! يا دا چې له «وطي» ځنې مو ښايي صالح اولاد مطلوب وي، او يوائې نفساني حظ مو مقصود نه وي.

وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُم مُّلَاقُوهُ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٢٣﴾ وَلَا تَجْعَلُوا اللَّهَ عُرْضَةً لِّأَيْمَانِكُمْ أَن تَبَرُّوا وَتَتَّقُوا وَتُصْلِحُوا بَيْنَ النَّاسِ ۚ

او ووېرېږئ ! له الله ځخه او وپوهېږئ ! چې بېشکه تاسې ملاقات کوونکي يئ له الله سره، او زيرې ورکړه (ای محمده !) مؤمنانو ته(دجنت). او مه ګرځوئ ! (نوم د) الله نښانه لپاره د قسمونو خپلو پر دې چې (نه) به نيکي کوئ، او (نه) به پرهېزګاري کوئ او (نه) به روغه کوئ په مينځ د خلقو کې.

تفسير: يعنې د کوم ښه کار په نه کولو باندې په الله تعالی قسم يادوئ، مثلا له خپلې مور او پلار سره به خبرې نه کوم، يا فقيرانو ته به خير خيرات نه ورکوم، يا له هيچا سره به مصالحت يعنې روغه نه کوم، يعنې په هسې قسمو کې چې د پاک الله نوم د خرابو کارو وسيله ګرځوئ، نو وروسته له دې هسې قسمونه مه خورئ ! که ځوک بيا داسې قسمونه يادوي، نو د هغه ماتول، او «کفاره» يې ورکول پرې واجبېږي.

وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٢٤﴾

او الله ښه اوربدونکی (د ټولو اقوالو) ښه عالم (پر ټولو اعمالو) دی.

تفسير: يعنې هر ځوک چې قسم يادوي الله تعالی يې اوري، که ځوک د پاک الله د جلال او عظمت له وېرې له قسم خوړلو ځخه ځان ساتي، نو (سميع عليم الله) د هغه په نيت ښه عالم او ښه خبردار دی، ستاسې هيڅ يوه پټه او ښکاره خبره له الله تعالی ځخه پټه نه ده، نو ځکه د زړه په نيت او د ژبې په خبرو او نورو کارونو کې ډېر زيات احتياط په کار دی.

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ

نه نيسي الله تاسو لره په لغوه او بيهوده قسمونو ستاسو باندې.

تفسير: لغو او چټې (بېکاره) قسم هغه دی: چې له خولې ځنې سم له عادته يا عرفه سره چټې پټې ووځي، او د زړه له کومې او په عمدي او ارادي ډول سره نه وي، له هسې قسم يادولو ځنې نه په چا باندې «کفاره» اوړي، او نه پرې ګناهګاريږي، هو ! که ځوک په قصد او ارادې سره د قسم الفاظ لکه «والله» «تالله» ووايي، او له دې قسم ځنې يې يوائې تاکيد مقصود وي، او قسم خوړل يې په زړه نه وي، نو پرې «کفاره» اوړي، د «کفارې» بيان وروسته راځي.

وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ

او لېكن نيسي (الله) تاسې په هغه (قسم) چې قصد کړی وي (د هغه) زړونو ستاسې (پس له حنثه).

تفسير: يعنې هغه قسم چې عمدي او په قصد سره وي، او په هغه کې زړه او ژبه سره بيخي يو شی وي؛ نو دهسې قسم په ماتولو باندې هرومرو (خامخا) «کفاره» اوړي.

وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿٢٢٥﴾

او الله ښه مغفرت کوونکی (د خطيئاتو) دی ښه تحمل کوونکی دی (په تاخير د عقوبت لپاره د انابت).

تفسير: «غفور» يعنې مغفرت کوونکی دی، چې په لغو او چټې (بېکاره) قسمو باندې مؤاخذه نه کوي، او «حليم» دی چې په مؤاخذه کې تلوار نه کوي، ښايي چې بنده توبه وکړي.

لِّلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ ۖ فَإِن فَاءُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٢٦﴾ وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٢٧﴾

دی هغو کسانو لره چې قسمونه کوي له (جماع د) ښځو خپلو نه (مطلقا يا تر څلورو مياشتو پورې) انتظار د څلورو مياشتو، نو که بيا رجوع وکړه دوی (او سره يو ځای شول) پس بېشکه چې الله ښه بخښونکی (د خطيئاتو) پوره رحم کوونکی دی. او که قصد وکړ دوی د طلاق (او رجوع يې ونه کړه) پس بېشکه چې الله ښه اورېدونکی (د ټولو اقوالو) ښه عالم دی (پر ټولو احوالو).

تفسير: ايلاء قسم او سوګند خوړولو ته وايي، که څوک قسم وخوري چې خپلې ښځې ته به تر څاکلې مودې نه نژدې کيږم، نو دا موده که له څلورو مياشتو کمه وه، نو ورته روا ده چې ددغې مودې تر پايه انتظار وکړي، او بيا وروسته ورسره جماع وکړي، په دغه موده کې ښځه حق نه لري چې د رجوع مطالبه ورڅخه وکړي، لکه چې دا صورت د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه بخاري شريف او صحيح مسلم کې ثابت دي.

او که دغه موده تر څلورو مياشتو زياته وه، نو د څلورو مياشتو په پوره کېدو سره ښځې ته روا ده، چې له سړي څخه وغواړي چې يا ورته طلاق ورکړي، او يا ورته رجوع وکړي، نو د جمهورو مذهب دا دی چې تش د څلورو مياشتو په تېرېدو سره طلاق نه واقع کيږي، او بعض علما وايي چې په بائن طلاق سره طلاقيږي.

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ ۚ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللَّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ إِن كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ

او طلاقې کړی شوې ښځې دې انتظار کوي په ځانو خپلو (له نکاح نه تر) درېو حيضو (کاملو) پورې، او نه دي روا دوی لره چې پټوي به دوی هغه شی چې پيدا کړی دی الله په ارحامو د دوی کې (له ولده يا حيضه) که وي دوی چې ايمان لرونکي وي په الله او په ورځې آخرې (چې قيامت دی).

تفسیر: کله چې نارینه خپلې ښځې ته طلاق ورکړي، نو هغه ښځه له بل چا سره تر هغه پورې خپله نکاح نشي ترلی، څو چې دریم «حیضه» یې پوره نشي، دا د دې لپاره که چېرې حامله وي، حمل به یې ښکاره شي، او د یوه اولاد، به د بل چا نه شي، نو ځکه پر ښځې باندې فرض دي چې هر هغه شی چې د هغې په ځګړه کې وي؛ هغه ښکاره کړي، حمل وي، او که حیض وي، او دې مودې ته په شرع کې «عدت» وایي.

فائده: دلته له مطلقاتو ځنې خاص هغه ښځې مراد دي، چې هغوی ته له نکاح ځخه وروسته د صحبت (مجامعت) یا «شرعي خلوت» نوبت وررسېدلی وي، او دې ښځو ته «حیض» هم ورځي، پر هغې ښځې باندې چې ورسره مجامعت یا «صحیحه خلوت» نه وي شوی، وروسته له طلاقه بیخي «عدت» نشته، او هغه ښځه چې بیخي نه حائضه کیږي، مثلا وړه یا داسې بوډۍ او زړه وي چې له وینې پاکه وي، یا حامله وي، نو په دوه وو وړاندنیو (اولنو) صورتونو کې؛ د دوی د عدت موده دریم میاشتې ده، او د اولاد لرونکې (حاملې) عدت، د هغې د اولاد زېږول (د حمل وضعه) ده، هغه ښځه چې خپلواکه (آزاده) نه وي، بلکه وینځه وي، که حائضه کیږي؛ نو د هغې د عدت موده دوه حیضه دي، که نه حائضه کیږي، نو د صغارت او کبارت په صورت کې د هغې عدت یوه نیمه میاشته ده، او په هغه صورت کې چې حامله وي، نو د اولاد زېږول (د حمل و ضعه) ده، دا تفصیلات له نورو آیتونو او احادیثو ځخه ثابت شوي دي.

وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَٰلِكَ إِنْ أَرَادُوا إِصْلَاحًا ۚ

او میړونه (خاوندان) د دوی ښه لائق (حقدار) دي په بیا کولو د ددې ښځو په دې موده کې که اراده لري دوی د جوړښت (په خپلو منځو کې).

تفسیر: یعنې که نارینه د عدت په موده کې وغواړي چې هغه ښځه بېرته ځان ته وګرځوي؛ کولی شي، که څه هم د هغې ښځې خوښه نه وي، خو ښایي چې په دې ځګړولو کې مقصود ښه سلوک او اصلاح وي، او ښځه ونه ربړوي، او ویې نه وېروي، او په دې یې نه مجبوره وي چې خپل «مهر» ورپرېږدي، چې دا ټول ظلم او تېری دی، که داسې کوي ځناهګاریږي، که څه هم رجعت یې صحیح دی.

وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۗ

او شته دي ښځو لره (حقوق په میړونو (خاوندانو) باندې) په شان د هغو (حقوقو) چې په دوی دي (د خاوندانو) په معروف (ښه وجه) سره، او شته نارینه وو لره په دې ښځو باندې بهترواليۍ (فضیلت).

تفسیر: یعنې دا امر خو حق دی، همغسې چې د نارینه وو حقوق پر ښځو باندې دي، همغه شانې د ښځو حقوق په نارینه وو باندې هم دي، چې سم له اصولو سره د هغو حقوقو په ځای راوړل؛ پر دواړو باندې ضروري دي، نو اوس نارینه لره ښایي چې له خپلې ښځې سره په هیڅ ډول (طریقه) بده ځګداره او خراب سلوک ونه کړي، بلکه د ښځې هر راز حق تلفي ممنوعه ده، مګر دا یو فضیلت او فوقیت نارینه پر ښځو باندې لري، چې د رجعت واک او اختیار خامخا نارینه لره دی.

وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٨﴾

او الله ښه غالب (د احکامو په انفاذ) او د حکمت والا دی.

اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۪ فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ تَسْرِيْحٌۢ بِاِحْسَانٍ ؕ

(رجعي) طلاق دوه کرته دی، نو بیا ساتنه (د ښځو) ده (په رجوع سره) په معروف (ښه وجه) سره، یا پرېښودل دي (ددې ښځو) په ښه وجه سره.

تفسیر: پخوا له اسلام څخه داسې دود (رواج) او دستور وو، چې لس شل ځلې هر څومره چې د نارینه زړه غوښته، خپلې ښځې ته به یې طلاق ورکاوه، مګر پخوا د عدت له ختمېدلو څخه به یې بیا رجعت ورته کاوه، او بیا به یې طلاق کوله، او په دې ډول ځینو نارینه وو خپلو ښځو ته زیات تکلیف او زحمت ورپېښاوه، نو بنا پر دې دا آیت نازل شو، هغه طلاق چې رجعت په کې کیدی شي، ټول سره دوه ځلې دی، چې په هغه کې نارینه واکمن دي چې د «عدت» په شپو کې ببرته له سره رجعت وکړي، یا یې په ښه ډول سره خوشې کړي، وروسته د «عدت» له تېرېدلو څخه «رجعت» نه پاتې کیږي، هو ! که دوی دواړه بیا سره خوښ وو، بیا نکاح ترلی شي، او که درې طلاقه ورکړي، نو بیا سره له خوښې هم دوی نکاح نشي سره ترلی، تر څو چې هغه ښځه بل مېړه (خاوند) ونه کړي، او له هغه سره جماع او خلوت ونه کړي.

فائده: له «امساك بمعروف» او له «تسریح باحسان» څخه دا غرض دی چې که رجعت کوي نو ښایي چې د موافقت او حسن معاشرت لپاره وي، او د ښځې بند ساتل او ربړول (ازارول) مقصود نه وي، لکه چې د دوی په منځ کې دستور وو، که نه په سهولت او ښه ډول سره دې پرېږدي.

وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مِمَّآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْـًٔا اِلَّآ اَنْ يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ

او روا نه دي تاسو ته (ای خاوندانو) چې واخلئ تاسې له هغه مال څخه چې ورکړی وي تاسې دوی ته (په «مهر» کې) هیڅ شی، مګر که وېرېږي دوی (یعنې مېړه «خاوند» او زوجه) چې وبه نشي ساتلی دوی دواړه احکام د الله.

تفسیر: یعنې نارینه وو لره دا روا نه ده؛ چې له ښځو ځنې د طلاق په بدل کې هغه مهر ببرته واخلي چې ورکړی یې دی، هو ! دا هلته روا دی چې څه نا چاري وي، او په هیڅ ډول د دوی په منځ کې موافقت سره رانشي، او دوی له دې خبرې ځنې وېرېږي، چې دمخالفت له شدته د الله تعالی په احکامو باندې ټینګ نه شي پاتې کېدی، او په ښه ډول یو له بله سره معاشرت او ژوندون نشي کولی، او د نارینه له جانبه د زوجې د حقوقو په ادا کې څه تېری او قصور هم نه وي، که نه دهغه مال اخیستل نارینه لره ناروا او حرام دي.

فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ۙ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيْمَا افْتَدَتْ بِهٖ ؕ

پس که وېرېږئ تاسې چې وبه نشي ساتلی دوی (دواړه) حکمونه د الله (په زوجیه وو امورو کې) نو نشته هیڅ ګناه په دوی دواړو باندې په هغه شي کې چې فدیه ورکړي په هغه سره (دا ښځه او ځان خلاص کړي).

تفسیر: یعنې ای مسلمانانو ! که تاسې له دې نه وېرېږئ چې د نارینه او ښځې په منځ کې داسې جګړې او مخالفتونه دي؛ چې د هغوی په ژوندون کې موافقت نه سره راځي، نو په دې صورت کې په دوی باندې څه ګناه نشته، چې ښځه څه مال ورکړي، او خپل ځان د هغه د نکاح له قیده جدا کړي، او نارینه د هغې مال واخلي، دېته «خلع» وایي، کله چې د ضرورت په حالت کې د مېړه (خاوند) او د زوجې لپاره «خلع» روا شول، نو ټولو مسلمانانو ته ښایي چې په دې کې سعي وکړي.

فائده: يوه ښځه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضور ته حاضره شوه، او ويې ويل: چې زه له خپل میړه (خاوند) څخه خفه يم، او نه غواړم چې د هغه سره واوسم، رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د دې موضوع تحقیق وفرمایه، هغې ښځې وويل چې: میړه (خاوند) مې نه زما د حقوقو په ادا کولو کې کمي کوي، او نه زه د هغه په اخلاقو او ديانت باندې څه اعتراض لرم، خو زما هغه طبعا بدي شي، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له هغې ښځې څخې «مهر» بېرته واخيست، او میړه ته يې ورکړ چې طلاقه يې کړه، نو په دې مناسبت دا آيت نازل شو.

تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا ۚ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢٢٩﴾

دا (ذکر شوي احکام) حدود د الله دي، نو تاسې مه تېرېږئ ! له حدودو د الله، او هر (هغه) څوک چې تېريږي له حدودو د الله نه، نو دغه کسان هم دوی دي ظالمان.

تفسير: يعنې دا ټول مذکوره احکام: طلاق، رجعت، خلع، حدود او قواعد دي، د پاک الله مقرره اصول دي، نو د هغو تعميل او پابندي ډيره ضروري ده، او ښايي چې هيڅ يو قسم مخالفت تغيير او کوتاهي په هغه کې ونه کړه شي !.

فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنْۢ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ ۭ فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يَّتَرَاجَعَآ اِنْ ظَنَّآ اَنْ يُّقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ۭ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٠﴾

نو (وروسته له دې دوو طلاقو څخه) که بيا يې طلاقه کړه دا ښځه (درېم ځلې) پس بيا حلاله نه ده (دا ښځه) ده لره پس (له دې نه)، تر هغه پورې چې په نکاح واخلي دا ښځه میړه (خاوند) بل پرته له ده نه، نو که طلاقه کړه دوهم میړه (هم) دا ښځه (او عدت يې تېر شو) پس نشته هيڅ ګناه په دغو دواړو ښځه او لومړني میړه، چې بيا سره رجوع وکړي دواړه، که ګمان وي ددې خاوند او ښځې په دې چې قائم به کړي دوی احکام د الله (او په ځای به يې کړي)، او دا (ذکر شوي احکام) حکمونه د الله دي چې بيانوي يې (دهغه) قوم لپاره چې پرې پوهيږي (او په مقتضی دعلم عمل کوي).

تفسير: يعنې که میړه (خاوند) خپلې ښځې ته درېم ځلې «طلاق» ورکړي، نو بيا به هغه ښځه ده ته هيڅ نه روا کيږي، تر څو هغه ښځه له بل کوم سړي سره خپله نکاح ونه تړي، او هغه بل خاوند له دې سره صحبت (جماع) ونه کړي، او بيا پخپله خوښه سره «طلاق» ور نکړي، او د هغه دويم میړه عدت هم پوره نشي، وروسته له دې نه چې د «فقهاوو» په اصطلاح ورته «حلاله» وايي د هغه لومړني خاوند سره دويمه نکاح هلته تړل کيږي، چې د پاک الله د احکامو د ساتلو فکر له دوی سره وي، يعنې هر يو د بل حقوق په ښه شان سره وساتي، او پخپلو نفسونو باندې په ښه شان سره اعتماد او اطمينان ولري، که نه خامخا بيا د دوی په منځ کې جنګ جنجال او شور ماشور پېښيږي، او بيا د حقوقو اتلاف ته نوبت رسيږي، او په ګناه کې اخته کيږي، حال دا چې د نکاح اساس په محبت، مينه، الفت او ښه ژوندون د نکاح غرض او غايه ده، اګر که د صحت شرط يې نه دی.

وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاۗءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ سَرِّحُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ ۠ وَلَا تُمْسِكُوْهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوْا ۚ

او کله چې طلاقې کړئ تاسې ښځې پس ورسيدی دوی (آخر د) عدت خپل ته (يعنې چې د عدت ختمېدلو ته نژدې شي) نو وساتئ ! دوی په ښه ډول سره (يعنې رجوع ورته وکړئ !) يا

خوشې کړئ ! دوی په معروف (ښه ډول سره) او مه ساتئ تاسو ! دا ښځې (په رجعت سره) لپاره د ضرر رسولو له جهته ددې چې (پر دوی باندې) تېرى وکړئ !.

تفسير: يعنې د عدت تر ختمېدلو پورې مېړه (خاوند) واکمن او مختار دى، چې له هغې ښځې سره بيا موافقت او اتحاد وکړي، او رجوع ورته وکړي، يا يې په خوښې او خوشالى سره بيخي پرېږدي، دا هيڅکله ورته روا نه ده چې په بند کې يې وساتي، او د ربړولو (ازارولو) لامله بيا رجوع ورته وکړي، لکه چې ځينو سړيو همداسې کول.

وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ۚ وَلَا تَتَّخِذُوْٓا اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا ۚ وَّاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُمْ بِهٖ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٢٣١﴾

او هر څوک چې وکړي داسې کار نو په تحقيق سره ظلم يې وکړ په ځان خپل، او مه ګرځوئ ! آياتونه د الله (داسې چې په اعراض او تهاون سره) مسخرې (پرې وکړئ !) او ياد کړئ ! نعمت د الله (چې اسلام دى) په تاسې باندې، او (ياد کړئ !) هغه چې نازل کړى دى (الله) په تاسې باندې چې کتاب دى او حکمت (سنت د رسول الله صلى الله عليه وسلم) دى، چې پند درکوي الله تاسې ته په هغو (نازل شوو احکامو) سره، او وويرېږئ ! له الله نه او پوه شئ ! تاسې چې بېشکه الله په هر شي باندې ښه پوه دى.

تفسير: په نکاح، طلاق، ايلاء، خلع، رجعت، حلاله او نورو کې لوى لوى حکمتونه او مصلحتونه دي، په دوى کې پلمې (تدبيرونه) او بهانې کول، او د بيهوده او چټې اغراضو لامله مداخله کول؛ داسې دي لکه چې څوک د پاک الله جل وعلى شأنه په احکامو باندې مسخرې او ټوقې کوي (نعوذ بالله من ذلك) ! مثلا چې څوک رجعت وکړي، او مقصود يې داسې وي، چې ښځه وربړوي (تکليف کړي)، نو پاک الله ته داسې خبرې او ارادې ټولې ښکاره دي، او له داسې پلمو (فريبونو) ځنې پرته له ضرره بل کوم شى په لاس نه ورځي.

وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ اَنْ يَّنْكِحْنَ اَزْوَاجَهُنَّ اِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ۗ

او هر کله چې طلاقې کړئ تاسې ښځې، پس ورسېدې دوى ټاکلې (مقررې) مودې خپلې ته (په دې شاني چې عدت يې تېر شي) نو مه منع کوئ تاسې دوى ! له دې نه چې په نکاح واخلي دوى ميړونه خپل کله چې دوى سره خوښ وي په خپلو منځو کې په معروف (سم له دستوره) سره.

تفسير: يوې ښځې ته د دې خاوند يو يا دوه طلاقه ورکړل، او بيا يې «عدت» کې «رجعت» هم ورته و نه کړ، کله چې د دې ښځې د عدت موده ختمه شوه، نو د نورو غوښتونکو په منځ کې د دې مخطوبې ښځې هغه پخوانى ميړه هم د خپلې نکاح پيغام ورولېږه، ښځه هم په دې خبره باندې خوښه وه، مګر د دې ښځې ورور ته قهر ورغى، او دا نکاح يې معطله کړه، په دې خبره باندې دا حکم نازل شو، چې ښايي د ښځې خوشالي او هوسايي (آرام) تر نظر لاندې ونيوله شي !، او لازم دي چې هغې له خوښې سره سم نکاح وترله شي !، او نه ښايي چې د کوم بل چا خيال او ناخوښي پکې مداخله وکړي، دا خطاب عام دى، او ټولو هغو کسانو لره شامل دى، چې د ښځو د نکاح مخه نيسي، عام له دې نه چې دا منع کوونکى همغه لومړنى خاوند وي، چې دې ښځې ته يې طلاق ورکړى دى، او اوس د ښځې مخه نيسي چې له بل چا سره نکاح ونه ترې، يا د دې ښځې کوم ولي او وارث وي، چې دا ښځه نه پرېږدي چې همغه خپل پخوانى ميړه

يا بل كوم خاوند وكړي، خو ددې مقصد دا نه دی چې د ولي له اجازې پرته نکاح کولی شي، ځکه چې د ولي اجازه په نکاح کې شرط ده، لکه چې په صحيحو أحاديثو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابت دي.

ذٰلِكَ يُوعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ

دا (حكم د نه منع كولو) پند وركاوه كيږي، په ده سره هغه چاته چې وي دی له تاسې نه؛ چې ايمان لري په الله او په ورځې آخرې باندې.

تفسير: يعنې له هغه حكمه چې مذكور شو ايماندارو ته پند وركاوه شي، ځكه چې له دې پند څخه هم دوی ګټه اخلي، او كه نه دا پند وركول د ټولو خلقو لپاره دی، او په هغه کې د هيڅا څه خصوصيت نشته، او دمؤمنانو له اختصاص څخه ضمنا نورو ته تهديد او دهغو تحقير هم ترې څرګندیږي.

ذٰلِكُمْ اَزْكٰى لَكُمْ وَاَطْهَرُ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٢﴾

دا (د منع او ضرر ترك) ډير غوره دی تاسې (او دوی) ته، او ښه پاكيزه دی، او الله عالم دی (پر هر شي) او تاسې نه پوهيږئ (په خپل خير هم).

تفسير: يعنې د هغې ښځې په نه ستنولو (واپس كولو) له نكاح ځنې او د هغې ښځې په نكاح كې داسې ښېګڼه (فائده) او پاكيزګي ده چې د نكاح په ممانعت كې هغه هيڅ كله نشته، كله چې ښځه خپل لمړنې مېړه ته راغبه وي، نو ښايي چې له هغه سره يې نكاح وټړله شي، ځكه په دې نكاح كې هسې ښېګڼه او پاكيزګي ده چې د بل چا په نكاح كې داسې ښېګڼه هيڅ نشته، الله تعالى ته د هغوی د زړه خبرې او راتلونكې ګټې او تاوان داسې ښه معلوم دی، چې تاسې پرې نه پوهيږئ.

وَالْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ ؕ

او ميندې (مورګاني) دې شودې(بې) وركوي اولاد خپل ته دوه كاله پوره، دا (حكم) هغه چا لره دی چې اراده لري د دې چې پوره كړي (نېټه د) تي وركولو.

تفسير: يعنې په ميندو باندې حكم دي چې خپل اولاد ته دې تر دوو كلو پورې شودې وركړي !، او دا موده هغه چا لره ده چې مور او پلار يې وغواړي؛ چې هغه موده پوره كړي، كه نه په دې موده كې لږوالی هم روا دی، لكه چې په وروستنې آيت كې راځي، او په دې حكم كې هغه ميندې هم داخلې دي، چې د هغوی نكاح باقي وي، يا طلاقې شوې وي، او يا د هغوی د «عدت» موده تېره وي، هو ! دومره فرق شته چې په هر حال مېړه (خاوند)به نفقه او كالي (جامې) منكوحې ته او معتدې ته وركوي، عام له دې نه چې ښځه هغه مولود ته شودې وركوي، يا يې نه وركوي، او كله يې چې «عدت» ختم شو، نو بيا به نفقه او كالي (جامې) د شودو وركولو لامله وركوي، او له آيت ځنې دا معلومه شوه چې د شودو وركولو د مودې انتهاء پوره دوه كاله ده، چې ښايي هغه موده په مور يا په بله كومه ښځه باندې پوره شي !، او پلار هم په هم دغو دوو كلونو كې مجبور دی چې د خپل وړوكي د شودو اجرت اداء كړي !، او دا ترېنه معلوميږي چې د شودو وركولو موده له دوه كلونو ځنې زياته نه ده.

وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ اِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌ ۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُوْدٌ لَّهٗ بِوَلَدِهٖ ۚ

او ده پر هغه چا باندې چې بچي زيږول شوی دی ورته (يعنې پلار)، روزي د دوی(يعنې د ميندو) او كالي (جامې) د دوی (يعنې د ميندو) په معروف (سم له دستوره) سره، او زور نشي كولی په

هيڅ نفس باندې مګر په اندازه د توان د ده سره، نه دې ضرر رساوه کيږي مور ته په سبب د ولد ددې سره، او نه (دې ضرر رساوه شي) پلار ددې ولد ته په سبب د ولد د ده سره.

تفسير: يعنې پلار ته ښايي چې د وړوکي مور ته ډوډۍ او کالي (کپړې) په هر حال کې ورکړي ! په اول صورت کې ددې لامله چې هغه د ده په نکاح کې ده، او په دويم صورت کې د دې لپاره چې په «عدت» کې ده، او په درېم صورت د شودو ورکولو اجرت په ده باندې کيږي، او نه ښايي چې د وړوکي مور او پلار يو بل ته د هغه وړوکي لامله څه ربړ (آزار) او تکليف ورکړي، مثلا مور ته لازم نه دي چې بې سببه له شودو ورکولو څخه مخ واړوي، يا پلار بې سببه وړوکی له مور څخه جلا (جدا) کړي، او د بلې کومې ښځې په شودو يې وروزي، يا د هغه د مور په نفقه او پوښاک کې څه تنګي وکړي.

وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ

او شته په وارث (د پلار) باندې په شان د هغه (نفقه چې په پلار وه).

تفسير: يعنې که پلار مړ شي، نو په وړوکي او د وړوکي په وارثانو باندې هم دا خبره لازمه ده چې د شودو رودلو په موده کې د هغه مور ته د ډوډۍ او کالیو (جامو) مصارف ورکړي، او هيڅ څه تکليف ورته ونه رسوي !، او له وارث ځنې هغه وارث مراد دی چې محرم هم وي.

فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا

نو که غواړي دوی دواړه (مور او پلار) ببلول (دماشوم له تي ځنې پخوا له دوه کلونو څخه) په خوښۍ سره چې وي له دوی دواړو نه او په مشورې (د دواړو سره) پس نشته هيڅ ګناه پر دوی باندې (په دې کې).

تفسير: يعنې که مور او پلار د کوم مصلحت له امله د دوه کلونو په منځ کې له مشورې او رضامندۍ څخه وروسته؛ وړوکی له تي ببلوي، او شودې نه ورکوي، نو پکې څه ګناه نشته، مثلا چې دمور شودې ښې نه وي.

وَإِنْ أَرَدْتُمْ أَنْ تَسْتَرْضِعُوا أَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُمْ مَا آتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوفِ

او که قصد وکړئ تاسې چې دايي ونيسئ ! (بله ښځه لپاره) د تي ورکولو اولاد خپل ته؛ نو نشته هيڅ ګناه پر تاسې باندې کله چې وسپارئ تاسې هغه شی چې قصد د ورکولو کړي وي تاسې دوی ته په معروف (سم له دستوره) سره.

تفسير: يعنې ای نارينه وو ! که تاسې د کوم مصلحت او ضرورت لامله علاوه له موره د بلې کومې ښځې په شودو باندې خپل وړوکی وروزئ (وپالئ) نو په دې کې هم څه ګناه نشته، مګر داسې نه چې د مور له برخې او حق ځنې کوم شی کم شي، بلکه سم له دود (رواج) او دستور سره د کوم شي ورکول چې مور لره وي؛ هغه پوره ورکړئ ! او دا مطلب هم کېدی شي چې د دايي حق پوره ورکړئ !.

وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٣٣﴾ وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا

او ووېرېږئ ! له الله، او پوه شئ ! چې بېشکه الله په هغو شيانو چې کوئ يې تاسې ښه ليدونکی

دی. او هغه کسان چې مړه شي له تاسې نه او پرېږدي دوی ښځې؛ انتظار دې کوي دا ښځې (د نکاح کولو څخه) په ځانو خپلو څلور میاشتې او لس (ورځې).

تفسیر: پخوا له دې نه دا خبره تېره شوه چې د طلاق په عدت کې د درې حیضونو انتظار دی وکړی شي !، اوس فرمایي چې د مړک په عدت کې دې د څلورو میاشتو او لسو ورځو انتظار وباسي !، په دې موده کې که دا خبره ښکاره شوه، چې هغه ښځه حامله نه ده، نو له بل چا سره د نکاح ترلو اجازه ورته شته، که نه وروسته د اولاد زېږولو څخه ورته اجازه ده؟، ددې تشریح به د «الطلاق» په سورت کې راشي، په حقیقت کې درې حیضه یا د څلورو میاشتو او لسو ورځو انتظار د حمل د ښکاره کېدلو لپاره ټاکلی شوی دی، (او د وینځې عدت د اصیلې نیمایي دی).

فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ

نو کله چې ورسیږي دوی مودې د عدت خپل ته، پس نشته هیڅ ګناه پر تاسې باندې په هغه کار کې چې کوي یې دا ښځې په (حق د) نفسونو خپلو کې په ښه توګه (سم له شرعي اصولو) سره.

تفسیر: کله چې کونډې ښځې خپل عدت پوره کړي، یعنې غیر حامله ښځه څلور میاشتې او لس ورځې، او حامله ښځه د اولاد تر راوړلو پورې معطله شوه، نو بیا دوی ته د شریعت له احکامو سره سم له بل چا سره د نکاح ترلو اجازه شته، او نه پرې ګناهګاریږي، زینت، عطر وهل، او د خوشبویې استعمالول ټول ورته جائز دي.

وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٣٤﴾ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ أَوْ أَكْنَنْتُمْ فِي أَنْفُسِكُمْ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلَٰكِنْ لَا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّا أَنْ تَقُولُوا قَوْلًا مَعْرُوفًا وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ

او الله په هغو شیانو چې کوئ (یې) ښه خبردار دی (نو جزا به پرې در کړي). او نشته هیڅ ګناه په تاسې باندې په هغه (کار) کې چې اشاره کوئ تاسې په هغه سره، چې غوښتل (دهغو) ښځو دې (چې په عدت کې وي) یا (یې) پټ ساتئ په زړونو خپلو کې، معلوم دی الله ته چې بېشکه تاسې ژر به یاد کړئ په غوښتلو سره د نکاح دا ښځې، ولیکن وعده مه کوئ ! له دوی سره (د نکاح) په پټه مګر (همدا) چې ووایئ تاسې ویل ښه ! (نېک له شریعت او رواجه سره سم) او مه کوئ قصد (د ترلو) د غوټې د نکاح (د دوی) تر هغه پورې چې ورسیږي ټاکلی (مقرر) عدت انتها د نېټې خپلې ته.

تفسیر: ددې آیت خلاصه داده: کله چې ښځه د خپل مېړه (خاوند) له نکاح ځنې جلا شوه، نو تر هغه پورې چې د دې «عدت» پوره شوی نه دی، بل چا ته دا خبره جائزه نه ده، چې له هغې سره خپله نکاح وترې، یا صافه وعده له هغې ځنې واخلي، یا په ښکاره ډول سره پیغام ورولیږي، لیکن که په زړه کې نیت وکړي، چې وروسته له عدته به له هغې سره خپله نکاح وترم، یا په اشاره سره خپل مطلب ورواوروي، چې بل څوک له ده نه وړاندې پیغام ور ونه لیږي، کله چې هغې ښځې ته واوروي چې: «ستا غوندې مېرمنې ته قدر او عزت هر څوک ساتي، یا زه غواړم چې له کومې پتمنې (غیرتي) مېرمنې سره خپله نکاح وترم» نو دی په هسې خبرو باندې هیڅ نه ګناهګاریږي، مګر صاف او ښکاره پیغام هیڅکله باید ور ونه لیږي.

وَاعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ فَٱحْذَرُوهُ ۚ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿٢٣٥﴾

او پوه شئ تاسې ! چې بېشکه الله معلوم دی ده ته هغه څه چې په زړونو ستاسې کې دي، نو ووېرېږئ ! له ده نه (او د نا مشروع شي قصد مه کوئ !) او پوه شئ تاسې ! چې بېشکه الله ښه بخښونکی (د خطیئاتو) ډېر تحمل والا دی (د عقوبت په تأخیر لپاره د انابت).

لَّا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا۟ لَهُنَّ فَرِيضَةً ۖ وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى ٱلْمُوسِعِ قَدَرُهُۥ وَعَلَى ٱلْمُقْتِرِ قَدَرُهُۥ مَتَٰعًۢا بِٱلْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٢٣٦﴾

نشته هیڅ تکلیف (ګناه) په تاسې باندې که طلاقې کړئ تاسې ښځې (خپلې) تر څو چې صحیح خلوت مو نه وي کړی له دوی سره، او مقرر کړی مو (نه) وي له پاره د دوی ټاکلی مهر، او څه خرڅ ورکړئ ! دوی ته (واجب) دی پر غني (مېړه) باندې په اندازه (د توان) د ده، او (شته) په فقیر (مېړه) په اندازه (د توان) د ده، خرڅ چې په معروف (سم له اصولو) سره وي، حق (لازم) دی په نیکي کوونکو (مسلمانانو) باندې.

تفسیر: که د نکاح تړلو په وخت کې د مهر ذکر ونشو، او بې د مهر له ټاکلو ځنې نکاح وتړله شوه، نو دا نکاح صحیح او روا ده، او مهر به وروسته له نکاح څخه مقرریږي، لیکن په دې صورت کې که پخوا له صحیحه خلوته او لاس ورغځولو او مجامعت څخه مېړه طلاق ورکړي، نو څه مهر پرې نشته، خو په مېړه باندې لازم دي چې له خپله طرفه هغې ښځې ته څه شی ورکړي، هغه دا چې لږ تر لږه درې کالي (جامې)، کمیس، پرتوګ، او ټکری دی سم له خپله حاله سره په ډېره خوښی او خوشالی سره ورکړي !.

وَإِن طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّآ أَن يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَا۟ ٱلَّذِى بِيَدِهِۦ عُقْدَةُ ٱلنِّكَاحِ ۚ وَأَن تَعْفُوٓا۟ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۚ وَلَا تَنسَوُا۟ ٱلْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٣٧﴾

او که طلاقې کړئ تاسې دوی (یعنې ښځې) پخوا له مسه کولو د دوی (یعنې د ښځو) او په تحقیق سره ټاکلی مو وو لپاره د دوی مهر، نو (لازم) دي (په تاسې باندې) نیمایي د هغه څه چې ټاکلي مو وي، مګر که عفوه وکړي دا ښځې (چې ټول مېړه ته ورپرېږدي) یا عفوه وکړي هغه سړی (مېړه) چې په لاس د ده کې ده غوټه د نکاح (چې کامل مهر ورکړي)، او دا چې عفوه وکړئ تاسې (ای ښځو او مړونو دغه عفوه) ډېره نږدې ده پرهېزګاری ته، او مه هېروئ تاسې فضل (احسان کول) په خپلو منځو کې، بېشکه الله پر هغه څه چې کوئ یې تاسې ښه لیدونکی دی.

تفسیر: که د نکاح په وخت کې مهر مقرر شوی وي، او له لاس ورورلو څخه پخوا مېړه (خاوند) خپلې ښځې ته طلاق ورکړي، نو نیمایي مهر پرې لازمیږي، مګر که ښځه یا هغه نارینه چې د نکاح د غوټې ټینګول او پرانیستل د هغه په اختیار کې دي؛ له خپل حقه تېر شي؛ ښه دی، د ښځې ښېګڼه داده چې هغه نیم مهر هم ورپرېږدي، او د نارینه ښېګڼه داده چې هماغه مقرر مهر پوره ور ورسوي، او که پوره مهر یې رسولی وي، نو نیم دې ترې ببرته وانخلي، بلکه ټول مهر دې ورپرېږدي، بیا یې وفرمایل: «که نارینه ور تېر شي، نو له (تقوی) سره ډېر ورو او مناسب دی، ځکه چې پاک الله نارینه ته لویي ورکړې ده، او د نکاح د ساتلو، او د طلاق ورکولو واکمن او مختار یې ګرځولی دی»، کله چې د نکاح په سبب په ده باندې ټول «مهر» لازمیږي، او اوس دې غواړي چې په لاس نه ورورلو او په طلاق ورکولو سره

ځان د نیمایي مهر څخه خلاص کړي، نو دا کار له تقوی سره مناسب نه دی، ځکه چې د ښځې له پلوه هیڅ قصور نه دی شوی، او هر څه چې شوي دي، د نارینه له خوا شوي دي، نو بنا په دی نارینه لره ښایي چې له عفوې او مهرانې (بهادرۍ) ځنې کار واخلي.

حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَىٰ وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ ﴿٢٣٨﴾

ساتنه کوئ تاسې ! پر (ټولو) لمونځونو باندې او (خصوصا) په لمانځه منځنې باندې (چې مازدیګر دی)، او ودرېږئ تاسې ! الله ته وېرېدونکي (په ادب سره).

تفسیر: له منځنې لمانځه ځنې مراد د مازدیګر لمونځ دی، چې د شپې او ورځې په منځ کې دی، ددې لمانځه تاکید یې ځکه زیات وفرمایه، چې په دې وخت کې دنیوي مشاغل او کارونه ډېر پېښېږي، او ویې فرمایل چې ودرېږئ په ادب سره !، یعنې په لمانځه کې هسې کوم حرکت ونه کړئ، چې له هغه څخه داسې څرګنده شي، چې ګواکې تاسې لمونځ نه کوئ، یا مو لمونځ پرې مات شي، لکه خوړل، او څښل، یا له چا سره خبرې کول، یا خندل، یا یې د ټولو حقوقو ساتنه کوئ، لکه: طهارت، اذان، اقامت، جمعه او جماعت، د نیت خلوص، حضور، خشوع، خضوع، طمأنیت، فرائض، واجبات، سنن، او مستحبات.

فائده: د طلاق په حکمونو کې د لمانځه د حکم بیانول، یا دا وجه لري چې نه ښایي دنیوي معاملې، او یو له بله سره جګړې تاسې د پاک الله له یاده غافل کړي، یا یې دا وجه ده، چې د هوا او هوس بندګانو ته د حرص او بخل د غلبې له امله د عدل پوره کول، او له انصاف څخه کار اخیستل، او بیا هغه هم د رنځ او د طلاق په حالت کې، ډېر سخت او درانه دي، بیا په داسې صورت کې چې: د ﴿وَأَن تَعْفُوٓا﴾ او د ﴿وَلَا تَنسَوُا الْفَضْلَ﴾ رعایت هم په کې وشي، له هغوی ځنې د هسې تعمیل توقع او هیله (امید) لرل، بیخي مستبعد او لرې په نظر راځي، نو چاره یې داسې وفرمایله چې: د لمانځه محافظت او دهغه ساتنه، او تل ادا کول، او د هغه د ټولو حقوقو او شرایطو رعایت، د هغو عمده علاج دی، ځکه چې لمونځ د فضایلو په تحصیل او د رذائلو په ازاله کې لوی اثر لري.

فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا ۖ فَإِذَا أَمِنتُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ ﴿٢٣٩﴾

نو که وېرېدئ تاسې (له دښمنه یا له بل شي نه) نو (لمونځ کوئ تاسې !) په پیاده تګ یا په سورلۍ سره، نو کله چې په امن شئ تاسې، نو یادوئ تاسې ! الله لکه چې ښوولی یې دي تاسې ته هغه څه چې نه وئ تاسې چې (پرې) پوهېدئ.

تفسیر: یعنې د جنګ او ددښمن د وېرې په وخت کې له مجبوریته په سورلۍ او پیاده تګ کې هم په اشاره سره لمونځ کول روا دي، اګر که د هسې لمونځ کوونکې مخ د قبلې په لوري هم نه وي.

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِّأَزْوَاجِهِم مَّتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ ۚ

او هغه کسان چې مړه شي له تاسې نه او پرېږدي دوی (خپلې) ښځې (لازم دی پر دوی باندې چې) وصیت دې وکړي لپاره د ښځو خپلو، د خرڅ ورکولو تر یوه کاله پورې، بې له ایستلو (له خپلو کورونو څخه).

تفسیر: دا حکم پخوانی دی، کله چې د میراث احکام نازل شول، او د ښځو برخې څرګندې شوې، او د ښځې د «عدت» موده څلور میاشتې او لس ورځې وټاکلی شوې، نو وروسته له هغه د دې آیت حکم منسوخ شو.

فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَعْرُوفٍ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٤٠﴾

نو که پخپله ووتلې (دا ښځې له خپلو کورونو څخه) نو نشته هیڅ ګناه (او نفقه او مسکن) په تاسې باندې په هغه شي کې چې کوي یې دوی په خپلو ځانو کې له معروفه (له ښو کارونو چې پاکي او زینت دی) او الله ډېر غالب (قوي په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا دی (چې هر کار په حکمت او مصلحت سره کوي).

تفسیر: یعنې که هغه ښځه په خپله خوښه دکال له ختمېدلو څخه پخوا له کوره ووځي، نو ای وارثانو ! په دې کار کې چې ښځه یې سم له شریعته سره د خپلو ځانو لپاره وکړي، په تاسې باندې هیڅ ګناه او وبال نشته، یعنې که وغواړي چې مېړه وکړي، یا ښه کالي واغوندي، او عطر استعمال کړي، په دې کې په دوی باندې هیڅ یو حرج نشته.

وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴿٢٤١﴾

او شته طلاقې کړی شویو ښځو ته خرڅ ورکول په معروفې (نېکې طریقې) سره، چې مقرر لازم کړی شوی دی په پرهېزګارانو باندې.

تفسیر: پخوا له دې نه د خرڅ یعنې د کالیو (جامو) ورکولو حکم د هغه طلاق په نسبت راغلی وو، چې نه «مهر» تاکلی شوی وي، او نه مېړه لاس وروړي، اوس په دې آیت کې همدغه حکم د نورو لپاره هم صادر شو، مګر دومره فرق شته، چې ټولو طلاق ورکړی شویو لره کالي (جامې) ورکول یواځې مستحب دي، او کوم ضروري امر نه دی، او په لومړني صورت کې ضرور دی.

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٤٢﴾

همداسې (لکه چې دا احکام یې بیان کړل) بیانوي الله تاسې ته آیتونه (احکام) خپل، لپاره ددې چې تاسې وپوهېږئ ! (او شرعي احکامو ته عقل متوجه کړئ) !.

تفسیر: یعنې څرنګه چې الله تعالی دلته د نکاح، طلاق، او عدت احکام بیانوي، همدا راز خپل احکام او آیتونه واضح فرمایي، څو چې پرې وپوهېږئ !، او عمل پرې وکړئ.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللَّهُ مُوتُوا ثُمَّ أَحْيَاهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٢٤٣﴾

آیا نه دي لیدلي تا (یعنې نه دی رسېدلی علم ستا ای عبرت آخیستونکیه) قصې د هغو کسانو ته چې وتلي وو له کورونو خپلو نه، حال دا چې دوی په زرګونو وو، (او وتلي وو) له وېرې د مرګه، پس وفرمایل دوی ته الله، چې مړه شئ (پس مړه شول) بیا یې ژوندي کړل دوی، بېشکه الله خامخا څښتن (خاوند) د فضل (مهربانی) دی په خلکو باندې، ولیکن ډېر د خلکو شکر نه باسي (لکه چې ښایي، او پند تري نه اخلي).

تفسیر: دا دیوه پخواني امت قصه ده چې څو زره سړي له خپلو کورنیو سره له خپل هیواد څخه ددې له امله وتښتېدل، چې له دښمن ځنې وېرېدل، او له جنګ څخه یې خپل ځانونه ګوښه کول، یا له وبا ځنې وېرېدل، او په تقدیر او توکل باندې یې یقین او باور نه وو، بیا کله چې دوی یوه ځای ته ورسېدل، د الله تعالی په حکم ټول سره مړه شول، او وروسته

د خپل نبي عليه السلام په دعا او غوښتنې سره ببرته ژوندي شول، چې له خپلو پخوانيو ګناهونو ځنې توبه وکړئ، او وروسته له دې نه په ښو کارونو مشغول شئ، د دې پېښې قيصه ځکه دلته فرمايي، چې د کافرانو له «جهاد» يا د في سبيل الله له خرڅه د مال او د ځانو د مينې او محبت له سببه نه ښايي چې سړی مخ واړوي، او ودې پوهيږي چې که الله تعالى حکم وکړي، نو له هغه ځنې د ژغورنې هيڅ يو صورت او چاره نشته، او که د ژوندون اراده وفرمايي، نو مړی په يوه سلګۍ کې بيا ژوندی کولی شي، د مړ ګ ځخه د ژوندیو ژغورنه کومه لويه خبره نه ده، نو بيا د هغه د حکم په تعميل کې له مړ ګ ځنې وېرېدل، او له «جهاد» ځنې ځان ايستل يا د افلاس له وېرې له خيراتونو او صدقاتو ځنې لاس نيول او پر نورو باندې د احسان او فضل او عفوې ورونه تړل، برسېره په بد نيتۍ پوره ناپوهي او حماقت هم دی.

وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٤﴾ مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً ۗ وَاللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ ۖ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٤٥﴾

او جنګ کوئ (ای مؤمنانو !) په لاره د الله کې (ددين د ترقۍ لپاره) او پوه شئ تاسې ! چې بېشکه الله ښه اورېدونکی (د ټولو اقوالو) ښه عالم (په ټول احوالو) دی. څوک دی هغه سړی چې قرض ورکوي الله لره قرض نېک (د زړه له اخلاصه د الله په لاره په صرفولو سره) نو زيات به کړي الله (ثواب د) قرض ده لره په زياتوالي ډېر، او الله تنګوي (رزق) او پراخوي (رزق) او هم (خاص) بيا به ده ته بيولي کيږئ ! (د اعمالو د جزا لپاره).

تفسير: يعنې کله چې دا خبره ښکاره شوه چې: ستاسې ځان او مال د پاک الله په حکم کې دی، نو اوس تاسې ته ښايي چې د الله تعالى د دين لپاره د کافرانو سره جنګ وکړئ !، او وپوهيږئ چې پاک الله ټول شيان ګوري، او د بهانو کوونکو او د نورو ټولې خبرې اوري، او پرې پوهيږي، او ښايي چې د الله تعالى په لاره کې مال صرف کړئ !، او له تنګسې او فقيرۍ ځخه هيڅ اندېښنه ونه لرئ، او وپوهيږئ چې تنګسه او پراخي او نور شيان ټول د پاک الله په واک او اختيار کې دي، او د ټولو مرجع او ورتګ دده په لوري دی. «قرض حسنه» هغه پور (قرض) ته وايي چې له ورکولو ځخه وروسته د هغه د ببرته اخيستلو زياته تقاضا ونه کړای شي، او پور (قرض) ورکوونکی په پوروړي باندې خپل منت او احسان کښېږدي، او عوض او بدل يې ونه غواړي، او هغه ته په سپکه سترګه ونه ګوري، او الله تعالى ته د مال ورکولو ځنې دا مراد دی، چې سړی د «جهاد» او «غزا» په لاره کې خپل مال صرف کړي، او په اخلاص يې وښندي، يا يې محتاجانو ته ورکړي.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَىٰ

آيا نه ده کتلي تا (يعنې نه دی رسېدلی علم ستا ای عبرت اخيستونکيه په قيصې د !) ډلې له بني اسرائيلو وروسته له موسى نه.

تفسير: له دې قصې ځخه د حق تعالى هغه قبض او بسط ښه ثابتيږي، چې ذکر يې پخوا له دې نه وشو يعنې فقير ته پاچايي ورکوي، او له پاچايانو ځنې پاچايي اخلي، ضعيف قوي ګرځوي، او قوي ضعيف.

إِذْ قَالُوا لِنَبِيٍّ لَهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۖ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ أَلَّا تُقَاتِلُوا ۖ قَالُوا وَمَا لَنَا أَلَّا نُقَاتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَأَبْنَائِنَا ۖ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴿٢٤٦﴾

کله چې وويل دوی يوه نبي ته (چې راغلی وو) دوی ته چې: مقرر کړه مونږ ته يو پاچا چې جنګ وکړو (مونږ په تدبير او اتفاق د هغه) په لاره د الله کې، (نو) وويل (نبي): آيا نږدې ياست

چې (يعنې توقع شته) که فرض کړی شي په تاسو باندې جنګ؛ چې ونه کړئ جنګ (بلکه دا توقع شته)؟ وويل دوی: څه (مانع) دی مونږ لره چې وبه نه کړو جنګ په لاره د الله کې؟ حال دا چې په تحقيق سره ايستلي شوي يو مونږ له کورونو خپلو او له ځامنو خپلو (په ظلم سره او دا سبب د جنګ دی) نو کله چې فرض کړی شو په دوی باندې جنګ نو وګرځېدل دوی (ټول له جنګه) مګر (ونه ګرځېدل) لږ له دوی نه، او الله ښه عالم دی په ظالمانو باندې (نو جزا ورکوي دوی ته).

تفسير: له موسی عليه السلام څخه وروسته تر يوې مودې پورې د بني اسرائيلو چارې ښې وې، بيا کله چې د دوی نيتونه خراب شول، نو پر دوی باندې يو ظالم کافر پاچا چې جالوت نومېده، مسلط شو، دوی يې له ښاره وويستل، او د دوی کورونه يې لوټ کړل، او مريان يې وګرځول، بني اسرائيل وتښتېدل، او په بيت المقدس کې سره ټول شول، په دې وخت کې دوی له خپل نبي څخه وغوښتل، چې يو پاچا مونږ ته مقرر کړه ! چې مونږ د هغه په ښوونه او ملګرتيا سره في سبيل الله «جهاد» وکړو.

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا ۚ قَالُوا أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ۚ قَالَ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ۖ وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَن يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٧﴾

او وويل دوی ته نبي د دوی، چې بېشکه الله په تحقيق سره مقرر کړی دی تاسې ته طالوت پاچا، وويل دوی (يعنې بني اسرائيلو) چې: څرنګه به وي ده لره (يعنې طالوت لره) پاچاهي پر مونږ باندې؟ حال دا چې مونږ ډېر مستحق يو په پاچايي سره له ده نه، او نه ده ورکړی شوې (ده ته) پراخي له مال څخه، وويل (نبي): چې بېشکه الله غوره کړی دی دا طالوت په تاسې باندې او زيات کړی يې دی هغه له جهته د پراخی په علم او (په) جسم کې، او الله ورکوي ملک (سلطنت) خپل هر چا ته چې اراده وکړي (د ورکولو يې)، او الله پراخ دی (احسان، فضل رحمت، د ده) ښه عالم دی، (په استعداد او مراتب د هر چا).

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ آيَةَ مُلْكِهِ أَن يَأْتِيَكُمُ التَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ آلُ مُوسَىٰ وَآلُ هَارُونَ تَحْمِلُهُ الْمَلَائِكَةُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٤٨﴾

او وويل دوی ته (د يعقوب اولادې ته) نبي د دوی چې بېشکه علامه د پاچايۍ د ده (د طالوت) دا ده، چې رابه شي تاسې ته (يو) صندوق «چې وي به» په هغه کې اطمينان او ډاډ د زړه، له (طرفه د) رب ستاسې او باقي پاتې شوي له هغه شيانو چې پرېښي وو اولادې د موسی او اولادې د هارون، حال دا چې بار کړي به وي هغه (صندوق) پرښتو، بېشکه چې په دې (راتلو د دې صندوق) کې خامخا علامه ده (په پاچايۍ د طالوت) تاسې ته که چېرې يئ تاسې مؤمنان (يقين لرونکي — نو ويې منئ).

تفسير: په بني اسرائيلو کې له پخوا زمانو راهيسې يو صندوق موجود وو، چې د هغه په منځ کې به د موسی او هارون اونورو انبياوو عليهم السلام ځينې ترکه او پاتې شوي شيان وو، کله چې جالوت بری ومونډ، نو دا صندوق يې هم له دوی ځنې واخيست، خو څرنګه چې د الله تعالی اراده داسې وه، چې هغه صندوق بېرته بني اسرائيلو ته ورکړي، نو

داسې وشوه چې دا صندوق ملائکو واخیست، او آسمان ته یې پورته کړو، او بېرته یې راکوز کړ، او د طالوت په مخ کې یې په داسې حال کې کېښود، چې بني اسرائیلو ورته کتل، بني اسرائیلو ددې علامو په لیدلو؛ د طالوت په پاچایۍ باندې باور وکړ، او په نتیجه کې طالوت د جالوت پر لښکر باندې سره له خپل فوځه حمله او یرغل ور وړ، خو په دې وخت کې موسم خورا ګرم وو، او تودوخه (ګرمي) ډېره زیاته وه.

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِالْجُنُودِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ مُبْتَلِيكُمْ بِنَهَرٍ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّي وَمَنْ لَمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُ مِنِّي إِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً بِيَدِهِ فَشَرِبُوا مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ فَلَمَّا جَاوَزَهُ هُوَ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ قَالُوا لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالَ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلَاقُو اللَّهِ كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿٢٤٩﴾

نو کله چې راووت طالوت سره د لښکرو (نو) وویل طالوت چې: بېشکه الله ازمویونکی ستاسې دی په یوه ویاله (نهر) سره، نو هر هغه څوک چې (اوبه) وڅښي له هغې ویالې (نهر) څخه؛ نو نه دی له (تابعانو) زما، او هر هغه څوک چې ونه څکي دا (اوبه) نو بېشکه دی له (تابعانو) زما دی، مګر (خو له تابعانو ځما دي) هغه څوک چې اخلي یو ورغوی اوبه په لاس خپل، نو ویې څښلې (دوی اوبه) له هغې (ویالې، ټولو) مګر (ونه څښلې زیات له یوه ورغوي نه) لږو له دوی نه، نو کله چې تېر شو له هغه ویالې نه دی (یعنې طالوت) او هغه کسان چې ایمان لرونکي وو (تېر شول) له ده سره وویل دوی (متخلفینو) (وروستو پاتې کېدونکیو) چې: نشته طاقت مونږ لره نن ورځ له جالوت سره او لښکرو د ده سره (د جنګ کولو)، وویل هغو کسانو چې یقین یې وو (په دې) چې بېشکه دوی ورتلونکي دي الله ته: ډېر (کرته) له لږو ډلو (د مؤمنانو) غلبه کړې وه (دغې لږې مؤمنې ډلې) په ډلې ډېرې (د کفارو سرکښانو) په اذن (حکم) د الله سره، او الله سره له صابرانو دی (په نصرت او اثابت).

تفسیر: خلق له هوسه، د طالوت سره د تللو او حرکت په نیت ټول سره تیار شول، بیا طالوت وغوښتل، چې دوی وازمویي، په لومړي مزل کې اوبه نه وې، خو کله چې په دوهم مزل د اوبو ویالې ته ورسېدل، نو طالوت حکم وکړ: «هغه ځلمي مجاهد چې له یوه ورغوي (لېې) څښي زیاتې اوبه وڅښي، له ما سره دی نه درومي !» په نتیجه کې له دوی څښي یواځې «٣١٣» تنه ځلمیان پاتې شول، او نورو ډېرې اوبه وڅښلې او جلا شول، هغه ځلمیان چې له یوه ورغوي څخه یې زیاتې اوبه نه وې څښلې، د هغوی تندې بیخي ماتې شوې، خو د هغو کسانو چې زیاتې اوبه یې څښلې وې، د هغو تندې لا پسې زیاتېدې، او د وړاندې تللو توان یې نه درلود (لرلو).

وَلَمَّا بَرَزُوا لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالُوا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿٢٥٠﴾ فَهَزَمُوهُمْ بِإِذْنِ اللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُودُ جَالُوتَ وَآتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ وَلَكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿٢٥١﴾

او کله چې راووتل (مخامخ شول) دوی لپاره د (جنګ) د جالوت او دلښکرو د ده، نو وویل دوی (یعنې مؤمنانو): ای ځمونږ ربه ! نازل (را توی) کړه پر مونږ صبر، او کلک کړه قدمونه ځمونږ (په جنګ کې) او مرسته وکړه له مونږ سره ! په قوم کافرانو !. مات کړل مؤمنانو دوی (یعنې کافران) په اذن (حکم) د الله سره او مړ کړ داود جالوت لره، او ورکړ ده ته (یعنې داود ته) الله سلطنت او حکمت (نبوت) او ویې ښودل ده ته له هغو شیانو چې اراده یې کوله، او که چېرې

نه وي دفع (منع) کول د الله خلقو لره، ځينو د دوی لره، په ځينو نورو سره، (نو) خامخا به خرابه شوې وه ځمکه (هيواد په ظلم سره)، وليکن الله څښتن (خاوند) د فضل (احسان) دی په خلقو باندې (نو ځينې په ځينو نورو سره له فساد څخه منع کوي).

تفسير: داود عليه السلام له دې پخوا يو عادي سړی وو، کله چې هغه د طالوت په لښکر کې د جالوت مخې ته د غزا لپاره لاړ، او د جالوت په وژنه بريالی شو، نو په دې سره د جالوت لښکر ماته وخوړه، او الله تعالی داود عليه السلام ته نبوت، پاچاهي، د زغرو جوړول، او د مرغانو په خبرو باندې پوهه ورکړه.

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ؕ وَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٢٥٢﴾

دا چې تېر شول آيتونه (دلائل) د الله دي چې مونږ يې لولو پر تا باندې (ای محمده !) په حقه سره، او بېشکه ته چې يې (ای محمده !) هرو مرو (خامخا) (ځمونږ) له مرسلانو څخه يې.

تفسير: دا دبني اسرائيلو قصه وه، چې تېره شوه، يعنې د زرهاوو سړيو وتل، او د هغوی ناڅاپه مړه کېدل او ژوندي کېدل، او دطالوت پاچا کېدل، دا ټول د الله تعالی د قدرت علامې دي، چې تاته اورولی کيږي، او ته ای محمده ! «صلی الله عليه وسلم» بېشکه د الله تعالی له رسولانو (استازو) څخه يې، يعنې همغسې چې پخوا له تا څخه مرسلان مبعوث شوي دي، ته هم د هغوی په شان په حقه او يقين مرسَل يې، چې د پخوانيو زمانو قصې په خورا (ډېر) ښه ډول بيانوي !، حال دا چې دا خبرې تا نه په کوم کتاب کې ليدلې دي !، او نه دې له چا څخې اوريدلې دي.

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۘ مِنْهُمْ مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ ؕ
وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ؕ

دا ټول رسولان (چې له آدم تر محمده پورې ياد شول) فضيلت ورکړی دی مونږ ځينې د دوی ته پر ځينو نورو، ځينې له دوی څخه هغه دي چې خبرې کړې دي الله (له دوی سره چې آدم، موسی، او محمد دي) او پورته کړي يې دي ځينو د دوی ته درجې (لکه محمد) او ورکړی دی مونږ عيسی ځوی د مريمې ته ښکاره معجزې، او قوي کړی دی مونږ هغه په روح القدس (جبريل) سره.

تفسير: دې رسولانو ته چې ذکر يې وشو، مونږ فضيلت ورکړی دی؛ ځينو ته پر ځينو نورو باندې (د رسالت نه برسېره په نورو صفاتو سره)، ځنې په دوی کې داسې دي چې الله جل جلاله له هغوی سره کلام کړی دی، لکه آدم، موسی او محمد عليهم السلام، ځينې د ګرد جهان لپاره ټاکلی (مقرر) شوي دي، لکه ځمونږ محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم چې په دغه شرف سره مخصوص او مبعوث شوی دی، او د ځينو درجې يې لوړې کړي دي، لکه چې ځينې د يوه کلي او ځينې د يو ښار، او ځينې د يوه قوم لپاره مقرر شوي دي، او عيسی عليه السلام ته ښکاره معجزې ورعنايت شوې دي، لکه: مړی ژوندی کول، د أکمهو (مورزاد رندو) أبرصو (برګو) او نورو روغول، او مرسته ورکړه مونږ هغه ته په پاک روح سره يعنې جبريل عليه السلام مو د هغه د مرستې لپاره ولېږه.

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِيْنَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ
وَمِنْهُمْ مَّنْ كَفَرَ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلُوْا ۫ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿٢٥٣﴾

او که اراده کړي وی الله (د ټولو خلقو د هدايت) نو نه به وو کړی جنګ (او اختلاف) هغو کسانو چې وروسته له دې رسولانو څخه وو (د دوی له امتونو څخه) وروسته له هغه څخه

چې راغلي دوی ته ښکاره معجزې، وليکن دوی اختلاف (او جګړې) سره وکړې، نو ځينې له دوی څخه هغه څوک دي چې ثابت پاتې شوي دي په ايمان، او ځينې له دوی څخه هغه څوک دي، چې کافران شول، او که اراده کړي وی الله (د دوی د هدايت) نو دوی به نه وو کړی (مخالفت او) مجادله، وليکن الله کوي هغه کار چې اراده لري (د چا د هدايت او ضلالت).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقْنَٰكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَٰعَةٌ

ای هغو کسانو ! چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو) خرچ کړئ (په زکات يا په جهاد يا په نورو واجبو صدقاتو کې) ځينې له هغو مالونو څخه چې درکړي دي مونږ تاسې ته پخوا د راتلو د هغې ورځې نه چې نه پېردول (اخيستل) او نه پلورل (خرڅول) په کې شته (چې سړی مال پيدا کړي بيا پرې ځان له عذابه خلاص کړي)، او نه دوستي او نه شفاعت (او نه بې د الله د اذن او اجازې نه سپارښت پکې شته).

تفسير: يعنې د عمل کولو وخت همدا دی په آخرت کې نه عمل پلورل (خرڅول) او نه پېردول (اخيستل) کيږي، او نه په خپلوی، دوستی، او آشنايی سره په لاس راځي، او نه په سپارښت سره څوک ځان خلاصولی شي، تر څو يې چې پاک الله پرې نه وړي، چې د هغه نيوونکی دی، يا د ده په نسبت د شفاعت امر ونه کړي.

وَٱلْكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٥٤﴾

او کافران هم دوی دي ظالمان (نو ای مؤمنانو تاسې د دوی په شان مه کيږئ !).

تفسير: يعنې په خپله کفارو په خپلو ځانونو باندې ظلم وکړ، چې د هغه له شامته، په سختو عذابونو ککړ شول، چې په آخرت کې نه د چا دوستي او خپلوي دوی ته ګټه او نفع رسولی شي، او نه يې سپارښت په ښه ورتلی شي.

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ

الله (چې دی)؛ نشته هيڅوک لايق د عبادت مګر هم دی دی، چې تل ژوندی، په يو حال باقي، قايم، کامل، تدبير والا دی.

تفسير: له لومړني آيت څخه د حق تعالی عظمت او شان هم معلوميږي، وروسته له هغه دا آيت نازل شو، چې د ذات توحيد، او د هغه تقدس، جلال، او د عظمت غايت په ډېر وضاحت سره په کې بيان شوی دی، ددې آيت لقب «آية الكرسي» دی، چې په مبارک حديث کې د کتاب الله خورا (ډېر) لوی آيت ښودل شوی دی، او ډېر فضيلت او ثواب يې منقول دی، اصلي خبره دا ده چې حق تعالی پخپل کلام کې درې ډوله مضامين ځای په ځای بيان کړي دي:

(١) د توحيد او صفاتو علم.

(٢) د احکامو علم.

(٣) د قصصو او حکاياتو علم، چې له دغه علم څخه هم د توحيد او صفاتو تقرير او تاييد مقصود دی، يا د علم الأحكام تاکيد او ضرورت مطلوب دی، چې يو د بل لپاره لکه علت او علامت داسې دي، د حق تعالی صفات د شرعيه وو احکامو لپاره منشأ او اصل دی، او شرعيه احکام د الله جل جلاله صفاتو ته لکه ثمرات او فروع داسې دي، «آية الكرسي» د توحيد او صفاتو په موضوع کې يو ممتاز حيثيت لري، او په دې سره يې د ګردو

(ټولو) حکمونو اساس او ریښې (ربښې) په زړونو کې داسې ټینګې او مضبوطې کړې، چې که څوک یې د ایستلو کوښښ وکړي، ایستلی یې نه شي.

لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ﴿۲۵۵﴾

نه نیسي ده لره پرکالي د خوب (یعني نه راځي په الله د خوب پرکالي او پرېشاني)، او نه په خپله خوب، الله لره دي هر هغه څه چې په آسمانونو کې دي، او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي (سره له آسمانونو او ځمکې ملکاً، خلقاً، وعبیداً)، څوک به وي هغه چې سپارښت (سفارش) وکړي په نزد د ده؟ (هیڅوک یې نشي کولی !) مګر (خو کولی شي) په اذن (حکم) د ده سره، عالم دی په هغو شیانو چې په مخ د مخلوقاتو کې دي (د دنیا له امورو) او په هغو شیانو چې وروسته له دوی دي (د عقبی له امورو) او نه شي احاطه کولی دوی په هیڅ له معلوماتو د ده، مګر (احاطه کولی شي) په هغه شي چې اراده وکړي (الله د هغه شي د معلومولو دوی لره)، پراخه ده کرسي د ده په ټولو اسمانونو او ځمکې باندې، او نه ستومانه کوي ده لره ساتنه د اسمانونو او ځمکې، او هم دی (الله) دی (له ګردو ځنې) خورا (ډېر) پورته، خورا (ډېر) لوی دی.

تفسیر: په دې آیت کې د پاک الله د ذات د توحید او د صفاتو د عظمت بیان شوی دی، چې الله یو او تل دی، او هیڅوک د هغه شریک نه دي، د ګردو مخلوقاتو موجد او مالک همدی دی، له ګردو (ټولو) نقصاناتو او هر راز تبدلاتو او فتورو ځنې پاک او منزه دی، په ګردو شیانو باندې ددې علم کامل او په ټولو باندې پوره قدرت لري، خورا لوړه درجه او عظمت ورته حاصلیږي، هیڅا ته دومره مجال نشته، او نه حق لري چې بې د ده له حکمه څخه د بل سپارښت وکړی شي، او هیڅ یو داسې کار او امر نشته چې د هغه کول ده ته کومه سختي او مشکلات ولري، په ټولو شیانو لوړ او اوچت او لوی دی، د الله تعالی د کبریاء او لویي په مقابل کې ګرد (ټول) حقیر دي، له دې ځنې دوه په زړه پورې مضمونونه څرګندیږي:

(۱) د حق تعالی ربوبیت او حکومت او ځمونږ او د نورو مخلوقاتو محکومیت او عبودیت، چې د هغه له مخې د حق تعالی ګرد ذکر شوي، او نا ذکر شوي احکام بې له څرنګه، او څه ویلو ځنې واجب التصدیق او واجب التعمیل کېدل، او د هغه په احکامو کې د هیڅ یو راز شک او شبهې اعتبار نه کول معلوم شول، او یواځې دداسې کمالي صفتونو خاوند ددې مستحق دی چې یواځې د همغه عبادت او بندګي وشي.

(۲) کله چې له پخوانیو ذکر شوو ډېرو عباداتو او معاملاتو څخه او د نعمتونو او عذابونو له لیدلو ځنې چاته داسې شبهه پیدا کېده، چې د هر سړي دومره زیات معاملات او عبادات دي، چې هغه ګرد دومره زیاتیږي، چې د حساب او کتاب او انضباط لاندې د هغو راتلل محال، بلکه نا ممکن په نظر راځي، بیا د هغو په مقابل کې هر یوه ته ثواب او عقاب ورکول، له عقله وتلې او نا ممکنه په نظر راځي، نو په دې آیت کې حق سبحانه وتعالی څو داسې خپل مقدس صفات بیان کړل، چې هغه ګرد خیالات او چرتونه په اسانۍ لرې شو، یعني د هغه علم او قدرت داسې کامل دی، چې هیڅ یو شی داسې نه دی، چې د هغه ځنې بهر او خارج وي، د هغه کثیر الصفات ذات علم او قدرت چې دومره لوړ او غیر متناهي او تل یو شان قائم او باقي دی،

نو هغه ته د جهان د ګردو جزئياتو انضباط، او دهغوی د ثواب اوعقاب ورکول کوم سخت او ګران کار نه دی، بلکه ډېر اسان دی.

لَآ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ ۖ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ۚ

نشته هيڅ زور په (منلو) د دين کې، په تحقيق سره سمکاره شوې ده سمه لار (د ايمان) له ګمراهۍ (کفر) څنې.

تفسير: کله چې د توحيد ګرد دلائل په سمه شان سره بيان شول، چې له هغو څنې هيڅ يو کافر ته هم هيڅ يو عذر پاتې نه شو، نو اوس په زور او زياتي سره د هيچا مسلمانولو ته حاجت پاتې نه شو، سمايي چې عاقلان خپله وپوهيږي، او په شريعت کې هم داسې حکم نشته، چې په زور سره څوک مسلمانی ته اړ (مجبور) کړی شي: د ﴿أَفَأَنتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ﴾ [سورت يونس ۹۹ آيت]، د نص په اساس هغه څوک چې «جزيه» مني، د هغه ځان او مال محفوظ او ساتلی پاتې کيږي.

ځينې وايي چې: «دا اخبار دی په معنی د نهي، يعنې په زور او زياتي سره هيڅوک دين ته مه اړ (مجبور) کوئ!، دغه نهيې يا خو عامه او د «التوبه» د (۱۰) رکوع په (۷۳) آيت سره چې ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ﴾ دی، منسوخه ده، يا خو تر اهل کتابو پورې خاصه ده، چې په «جزيه» ورکولو سره خپل ځان ساتلی شي، نو په دغه تقدير سره به نه وي منسوخ».

فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥٦﴾

پس هر څوک چې کافر (منکر) شو له (عبادت د شيطان او) بتانو، او ايمان يې راوړو په (وحدانيت) د الله باندې، نو په تحقيق سره يې ټينګه نيولې ده کړی کلکه چې له سره نشته پرې کېدل هغې لره، او الله سبه اوربدونکی (د ګردو اقوالو) سبه عالم دی (پر ټولو احوالو).

تفسير: يعنې کله چې هدايت او ضلالت په منځ کې تميز وشو، نو اوس څوک چې له ضلالت څنې مخ اړوي، او هدايت خوښوي نو هغه داسې يوه ټينګه او مضبوطه کړی نيولې ده، چې د هغې د شکېدلو او خوشې کېدلو هيڅ خوف او وېره نشته، او حق تعالی ګرد (ټول) سمکاره اقوال سبه اوري، او په ټولو پټو کارونو او نيتونو او د زړونو په خبرو او احوالو باندې ډېر سبه عالم دی، او له ده څنې د هيچا خيانت او بد نيتی پټې نه پاتې کيږي.

اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِيَاؤُهُمُ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُم مِّنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ ۗ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٥٧﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ ۖ قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿٢٥٨﴾

الله دوست (مددګار) دی د هغو کسانو چې مؤمنان دي، چې باسي دوی له تيارو (د کفر او ګمراهۍ نه) د رڼا (د ايمان او هدايت) لوري ته، او هغه کسان چې کافران (منکران) شوي دي، دوستان د دوی شيطانان دي، چې باسي دوی له رڼا (د فطري ايمان او هدايت نه) د تيارو (د کفر او ګمراهۍ)

لورې ته دغه کسان (چې فطري ايمان يې په عملي کفر سره بدل کړی دی) صاحبان د اور (د دوزخ) دي، هم دوی په دې اور کې تل پاتې کيدونکي دي، آيا نه دی ليدلی تا (يعنې ای محمده ! ستا علم نه دی رسېدلی قصې د) هغه سړي (نمرود) ته چې جګړه (حجت بازي) يې کړې وه ابراهيم سره په (حق د) رب د ده کې، له دې جهته چې ورکړی وو ده ته الله ملک (سلطنت)، کله چې وويل ابراهيم: رب زما هغه ذات دی چې ژوندي کول کوي او مړه کول کوي، وويل (نمرود): چې زه (هم) ژوندي کول کوم (واجب القتل په عفوې سره) او مړ کول کوم (بېګناه په ظلم سره)، وويل ابراهيم: «نو بېشکه الله راولي لمر له (لوري د) مشرقه، نو ته (ای نمروده !) راوله هغه (لمر) له (لوري د) مغربه !»، نو حيران (او شرمنده) شو هغه ځوک چې کافر شوی وو (يعنې نمرود)، او الله نه ښيي (د خير سمه صافه لاره) قوم ظالمانو ته (په سبب د ظلم د دوی پر خپلو نفسونو).

تفسير: په لومړي آيت کې د مؤمنانو او د کافرانو او د اسلام د نور او د کفر د ظلمت ذکر وو، اوس د هغو د تاييد لپاره ځو مثالونه راوړي، په لومړي مثال کې: د «نمرود» پاچا ذکر دی، چې ده د خپلې شهنشاهۍ په غرور خلق دې ته مجبورول چې سجدې ورته وکړي، کله چې ابراهيم عليه السلام له ده سره مخامخ شو، ابراهيم عليه السلام وويل چې: «زما رب هغه ذات دی چې ژوندي کول او مړه کول د ده په واک (اختيار) کې دي»، «نمرود» وويل چې: «دوه تنه بنديان چې يو واجب القتل او بل بېګناه وي ژر را حاضر کړئ !» نو سمدلاسه «نمرود» حکم وکړ، چې: «واجب القتل بندې دې خوشې (آزاد) شي ! او بې ګناه بندي دې ووژل (قتل) شي !» او په پای (آخر) کې يې ابراهيم عليه السلام ته وويل: «ودې ليدل، چې زه هم هر سړی چې و غواړم؛ وژنم يې، او هر ځوک چې وغواړم؛ ژوندی کوم يې»، دلته ابراهيم عليه السلام د لمر دليل ور وړاندې کړ، او هغه مغرور احمق يې ساکت او بې ځوابه کړ، خو هدايت يې په برخه نه شو، يعنې سره د بې ځوابه پاتې کېدو د ابراهيم عليه السلام ارشاد ته يې غوږ کښېښنبود، او ايمان يې رانه وړ، يا داسې ووايئ چې د ابراهيم عليه السلام ددويم سوال ځواب يې ونشو ويلی، حال دا چې همغسې لکه نمرود چې د ده اول سوال ځواب ورکړی وو، د هم داسې ځواب ورکولو امکان دلته هم وو، چې داسې يې ويلې وای: (چې د مشرق نه يې زه راخېژوم، ستا معبود دې له مغربه راوخېژوی).

أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحْيِي هَٰذِهِ اللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۖ فَأَمَاتَهُ اللَّهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُ ۖ

يا (آيا ستا علم نه دی رسېدلی قصی د) هغه سړي (عُزَير) ته چې تېر شو په يوې قريې او هغه (قريه) پرېوتلې وه (ديوالونه يې) پر بامو د دوی باندې، (نو عزير) وويل: څرنګه به (بيا ودانه او) ژوندی کړي الله دا (قريه يا يې خلق) وروسته له (ورانېدا او) مړ کېدو (د اهل) دهغې؟ نو مړ کړ دی الله (او مړ يې پرېښود) سل کاله، بيا يې پورته (ژوندی) کړ دې.

تفسير: هغه سړی چې عُزَير عليه السلام وو، چې په لاره کې په يوه وران ښار باندې تېر شو، چې د هغه ګرد ديوالونه برسېره پر چتونو باندې لويدلې وو، نو د ده په زړه کې دا خبره تېره شوه، چې د دې ښار ګرد اوسېدونکي مړه شوي دي، نو دوی به څرنګه د حق تعالى له لوري بيا ژوندي شي؟ او دا ښار به بياځرنګه ودان شي؟ دلته د ده روح قبض او سا يې الله تعالى ته وکښله، او خر يې هم مړ شو، سل کاله همداسې مړ پاتې شو، عُزَير عليه السلام وروسته له سلو کلونو بيا ژوندی کړ شو، ګوري چې د ده د خوړلو او څښلو شيان همغسې صاف، پاک، او تازه ورته پراته دي، او د ده خر چې مړ شوی وو، هډوکې يې ګرد سره وراسته شوي، او کوټه پراته وو، اوس همغه هډوکي د ده تر سترګو لاندې بيا ژوندي شول،

قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۖ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۖ

وويل (الله عُزير ته چې): «څومره ځنډ (تاخير) کړی دی تا (دلته)»، وويل (عُزير): «ځنډ (تاخير) مې کړی دی يوه ورځ، يا يوه برخه د ورځې».

تفسير: کله چې عُزير عليه السلام مړ کېده، لمر لږ څه هسک (اوچت) راغلی وو، او کله چې بيا ژوندی شو، لا ماښام شوی نه وو، نو لمړی يې داسې خيال کړی وو، که زه دلته پرون ويده شوی يم، خو يوه ورځ، او که همدا نن ويده شوی يم، خو لا پوره يوه ورځ هم نه ده تېره.

قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ فَانظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ۖ وَانظُرْ إِلَىٰ حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ آيَةً لِّلنَّاسِ ۖ وَانظُرْ إِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا ۚ

وويل (الله داسې نه ده لکه چې ته وايې): بلکه ځنډ (تاخير) کړی دی تا (دلته) سل کاله، نو وګوره خوړو خپلو ته، او (شيانو) د څښلو خپلو ته، چې هيڅ نه دي خراب شوي (سره له تېرېدلو د سلو کلونو)، او وګوره خره ته دې (چې هډوکي يې څرنګه تک سپين ځليږي)، او لپاره ددې چې مونږ وګرځوو تا دليل (د قدرت) لپاره د خلقو (په بيا ژوندي کېدو سره) او وګوره طرف د هډوکو (د خره خپل) ته چې څرنګه راخوځوو (مونږ) هغه، بيا ورآغوندو هغوی ته غوښه.

تفسير: عُزير عليه السلام په مخ کې هغه ګرد (ټول) هډوکي د بدن له ترکيب سره سم ټول کړل شول، بيا هغوی باندې غوښې زرغونې شوې، او پوستکي پرې وغوړېدل، بيا د الله تعالى په قدرت په هغه کې سا ننوتله، او له خپل ځای څخه پاڅېده ! او ودرېده، او ويې هنګل (اواز يې وکړو).

فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٥٩﴾

نو کله چې ور ښکاره شو ده ته (دا حال په مشاهده سره نو) وويل (عُزير چې اوس) پوهېږم (په مشاهده سره هم) چې بېشکه الله په هر شي باندې ښه قادر دی.

تفسير: کله چې عزير عليه السلام دا ګردې (ټولې) پېښې په خپلو سترګو وليدې، نو ويې ويل: چې لا مې ښه باور او يقين راغی چې پاک الله په هر شي باندې ښه قادر دی، يعنې په دې خبره باندې خو پخوا له دې نه هم معتقد وم، چې د مړې ژوندي کول الله جل جلاله ته ډېر آسان کار دی، خو اوس مې د ده دا قدرت په خپلو سترګو وليد، «دا يې مطلب نه دی چې پخوا يې په يقين کې څه کمی وو، هو ! داسې ننداره يې په خپلو سترګو نه وه ليدلې».

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَىٰ ۖ قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِن ۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِي ۖ

او (ياد کړه ای محمده !) هغه وخت چې وويل ابراهيم: ای ربه زما وښيه ماته چې څرنګه ژوندي کوې ته مړي؟ وويل (الله): آيا ستا لا باور نشته (په ژوندي کولو د مړو؟ بيا) وويل (ابراهيم): چې هو ! (باور مې شته) وليکن (غواړم دا) د دې لپاره چې مطمئن شي زړه زما.

تفسير: لنډه يې دا چې يقين يې پوره وو، خو يواځې د مشاهدې او د عين اليقين غوښتونکی وو، چې هغه خامخا په کتلو باندې موقوف دی.

قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ سَعْيًا ۚ

وويل (الله): نو ونيسه ! څلور له مرغانو نه، پس رانږدې کړه ! دوی ځان خپل ته، (بيا يې حلال کړه !) بيا يې کښږده ! په هر يوه غره باندې له دوی ځنې يوه يوه برخه، بيا راوبوله ! (ای ابراهيمه !) دوی (يعنې دغه مرغان) رابه شي دوی تاته (ای ابراهيمه !) په منډو.

تفسير: د پاک الله له ارشاد سره سم ابراهيم عليه السلام څلور مرغان واخيستل، او څلور واړه يې له خپله ځانه سره آموخته کړل، چې په بللو باندې به هر يو په تلوار سره ورته راته، او د ده معرفت او پيژندګلوي هم له هغو سره ډېره زياته شوه، بيا يې د پاک الله په امر سره دا څلور واړه مرغان حلال کړل، او په څلورو غرونو يې د دې مرغانو اجزاء سره وويشلې، او دې په خپله د دې څلورو واړو غرونو په منځ کې ودرېده، او يوه مرغه ته يې غږ وکړ، نو د هغه سر د يوه غره له سره والوت، او په هوا شو، د هغه پښې، څانګونه، او تنې هم ورسره والوتې، او په هوا کې سره ونښتلې، او روغ رمټ ښکته په ځمکه کې کيناست، او د ابراهيم عليه السلام مخ ته په خپلو پښو راغی، همداسې د دويم، دريم، او څلورم مرغه اجزاء پرله پسې الوتلې، او په هوا کې سره پيوند کېدلې، او د خپلو جثو له جوړېدولو وروسته د خليل الله ابراهيم په مخ کې په خپلو پښو راتلل، يا دا چې ځان ته يې رانژدې کړه !، او حلال يې کړه، او غوښې، هډوکي، بڼې، او پښې يې ټول سره وټکوه، او سرونه يې له ځان سره وساته !، دا ګڼه غوښه يې سره کلوله کلوله کړه !، او په څلورو غرونو باندې يې کښږده، بيا ورنارې کړه ! نو رابه شي دوی تاته ښکته په تلوار سره.

وَاعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦٠﴾

او پوه شه ! (ای ابراهيمه !) چې بېشکه الله ډېر غالب د ی (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا دی (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

مَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ ۗ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَن يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦١﴾

مثال (صفت د نفقې او ورکړې) د هغو کسانو چې صرفوي مالونه خپل په لاره د الله (په جهاد او نورو عبادتونو) کې په مثل د يوې دانې (د تخم) دی چې زرغونه کړي دا (دانه) اوه وړي، په هر يوه وړي کې سل (سل) دانې وي، او الله زياتوی (اجر) لپاره د هغه چا چې اراده وکړي (د اجر دزياتولو)، او الله پراخ دی (احسان، فضل، او رحمت دده)، ښه عالم دی (په ټولو احوالو).

تفسير: يعنې د الله تعالی په لاره کې د لږ مال ثواب هم ډېر دی، لکه چې له يوې دانې ځنې اوه سوه دانې پيدا کيږي، او الله تعالی چې هر چا ته اراده وفرمايي لا يې پسې زياتوي، او له اوو سوو ځنې اوه زره او له دې نه يې هم زياتوي، او الله جل جلاله لوی مغفرت کوونکی، او د هر صرف کوونکي په نيت، او د هغه د صرف شوي مال په مقدار، او د مال په کيفيت او په نورو شيانو باندې ښه عالم دی، او د هر يوه سره مناسبه معامله کوي.

الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَا أَنفَقُوا مَنًّا وَلَا أَذًى ۙ لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٦٢﴾

هغه کسان چې صرفوي مالونه خپل په لاره د الله (په جهاد او نورو عبادتونو) کې بيا نه ورپسې کوي (دوی) په هغه شي پسې چې خيرات کړی يې دوي (بارول د) احسان او نه (رسونه د) ضرر،

(شته) لپاره د دوی اجر (د نفقې ثواب) د دوی، په نزد د رب د دوی، او نه به وي هیڅ ډول وېره په دوی باندې او نه به دوی (هیڅکله) غمجن کیږي (د ثواب په نقصان سره).

تفسیر: هغه خلق چې د الله تعالی په لاره کې مال مصرفوي، او دهغه صرف شوي مال په نسبت نه په ژبه چا باندې احسان ږدي، او نه چاته د هغه په مقابل کې په پیغور ورکولو او خدمت اخیستلو، او تحقیر کولو، زحمت پېښوي (یعنې هیڅ ډول قولي، یا فعلي رنځ او آزار نه ور رسوي)، نو د هغوی لپاره کامل ثواب شته دی، او نه د ثواب له کمېدلو څخه به دوی ته څه وېره او اندېښنه نه وي، او نه د ثواب له نقصانه غمجن کیږي.

قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَا أَذًى ۗ وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ ﴿٢٦٣﴾

خبره معروفه نېکه(خوږه پسته فقیر ته) او عفوه (ده ته که الحاح یا شور وکړي) ډېره ښه ده له خیراته چې په هغه پسې وي ضرر (رسونه په منت یا په پیغور د سوال سره)، او الله غني دی (بې پروا له هر چا او له هر شي) نهایت تحمل والا (د عذاب په وروسته والي دپښېمانتیا لپاره).

تفسیر: یعنې سوالګر ته په ورو ځواب ورکول، او د هغه له تېنګار او بدخویۍ ځنې تېرېدل له هغه خیرات څخه ښه دی چې څو ځلې یې سپک کړي، او ویې شرموي، یا پیغور ورکړي، یا احسان پرې کېږدي، او الله تعالی «غني» دی، چې د هیڅا (انفاق ته چې په من او اذی وي او) مال ته څه حاجت او اړه (احتیاج) نه لري، هغه خیراتونه او «صدقې» چې تاسې یې د هغه په لاره کې ورکوئ، وپوهېږئ چې خپلو ځانونو ته یې ورکوئ، او «حلیم» دی چې په هسې ربړولو (تکلیف ورکولو) باندې د عذاب په مقررولواو لېږلو کې تلوار نه کوي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُم بِالْمَنِّ وَالْأَذَىٰ كَالَّذِي يُنفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۖ

ای هغو کسانو ! چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) مه باطلوئ تاسې خیراتونه خپل (مه ضایع کوئ ثوابونه یې) په احسان بارولو او ایذا (او ضرر رسولو) سره په شان (د ابطال د ثواب او د انفاق) د هغه (سړي) چې صرفوي مال خپل لپاره د ښودنې د خلقو او ایمان نه لري په الله، او په ورځې آخرې باندې (چې قیامت دی).

تفسیر: دا ارشاد چې هغه په الله تعالی او د قیامت په ورځې یقین نه لري؛ نو دا د «صدقې» د ابطال لپاره قید او شرط نه دی، ځکه چې «صدقه» خو یواځې له ریاء ځنې باطله کیدی شي، اګر که صرف کوونکی یې مؤمن هم وي، مګر دا قید یې یواځې د دې لپاره زیات کړ، چې معلومه شي، چې ریاء کاري د مؤمن له شانه لرې ده، بلکه دا کار د منافقانو له حاله سره ورې (لائق) او مناسب دی.

فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُ وَابِلٌ فَتَرَكَهُ صَلْدًا ۖ لَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُوا ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿٢٦٤﴾

نو مثال د دې (ریا کار په صرفولو د مال کې) په شان دصفت د هغې ښوئې تیږې (ګټې) دی، چې پرتې وي په هغې باندې څه خاورې، پس ورسیږي هغې ته زوروړ باران، نو پرېږدي دغه تېږه (ګټه) پاکه (صافه له ګرده)، نه به قادریږي (دا ریا کاران) په هیڅ شي باندې (له ثوابه د) هغه شي چې کسب کړی دی دوی، او الله نه ښیي (سمه صافه لار د خیر او ارشاد) قوم کافرانو ته (په سبب د ظلم د دوی پر خپلو نفسونو).

تفسير: مخکې وويل شول چې: په اخلاص سره خيرات ورکول هسې دي؛ لکه چې له يوې کرلې شوې دانې ځنې (٧٠٠) دانې پيدا شي، اوس فرمايي چې: په «خيرات» کې نيت شرط دی، که څوک د «رياء» او خلقو ته د ځان ښوولو په نيت «صدقه» ورکړي، نو د هغه مثال هسې وګڼئ لکه چې څوک کومه دانه پر يوه داسې ښويه تيږه (ګټه) باندې وکري، چې پر هغې باندې لږ څه خاوره پرته وي، خو کله چې باران ودريږي، نو هغه بيخي صافه او پاکه شي، نو په هغې باندې به هغه دانه څنګه زرغونه شي؟ هم داسې به په صدقاتو کې رياکارانو ته څه ثواب ورسيږي؟ بلکه نه وررسيږي.

وَمَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ وَتَثْبِيتًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَآتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَإِن لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٦٥﴾

او مثال د هغو کسانو چې صرفوي (لګوي) مالونه خپل لپاره د طلب د رضا د الله، او لپاره د ثبات (د زړه او صدق چې پيدا دی) له نفسونو ددوی څخه (په ايمان باندې) په شان د يوه باغ دی په لوړه ځمکه (مستعده مامونه) باندې، چې ورسيږي دې (باغ) ته زورور باران؛ نو ورکړي مېوې خپلې دوچنده، نو که ونه رسيږي (باغ) ته زورور باران نو نرۍ باران (يا پرخه پرې اوري هم) کافي ده، او الله په هغو شيانو چې تاسې يې کوئ ښه ليدونکی دی.

تفسير: له زورور باران ځنې مراد ډېر مال صرفول دي، او له نري ځنې د لږ مال صرفول مقصد دي، د زړونو له تثبيت څخه مطلب داد دې، چې ثابت کړي زړونه په ثواب ميندلو کې، يعنې يقين ولرئ چې د خيرات ثواب خامخا دوی ته رسېدونکی دی، که د دوی نيت سم وي، نو له ډېرو صرفولو څخه به دوی ته ډېر ثواب ور رسيږي، او په لږ خيرات سره د ثواب فائده ورحاصليږي، لکه چې په خالصې (مستعدې، هوارې، معتدلې، هواداړې، او لمريزې) ځمکې (يو ښکلی ښه مېوه دار) باغ وي، نو څومره چې باران (متدرجا) ووريږي، هغومره ګټه به ور ورسيږي، که يې نيت سم نه وي، په هره اندازه چې زيات مال صرف کړي، هغومره مال يې ضايع، او دې زيانمن کيږي، ځکه چې په زيات مال ورکولو کې به ريا او ځان ښوول هم زيات وي، لکه چې په ښويه تيږه باندې دانه نه زرغونيږي، نو څومره زورور باران چې ووريږي، هغومره زيان رسوي.

أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَن تَكُونَ لَهُ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَابٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ لَهُ فِيهَا مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ وَأَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهُ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَاءُ فَأَصَابَهَا إِعْصَارٌ فِيهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٦٦﴾

آيا خوښوي يو له تاسو څخه دا چې وي دې ده لره يو باغ له خرماوو څخه، او له انګورو څخه، چې بهيږي له لاندې (د ونو) د هغو ويالې، چې وي ده لره په دغه (باغ) کې له (نورو) هر ډوله (قسمه) مېوو، او ورسيږي ده ته زوړوالی، او وي ده لره اولاد ضعيفان، پس ورسيږي هغه (باغ) ته سخت باد، چې وي په هغه کې اور؛ نو وسوځي دا (باغ) هم داسې (په شان د دې تېر شوي بيان)، بيانوي الله تاسې ته دلائل (د خپل قدرت) لپاره د دې چې تاسې فکر وکړئ ! (په هغه کې او ترې پند واخلئ !).

تفسير: دا مثال د هغه چا دی چې د ريا او ځان ښکارولو، او د خلقو د خبرولو لپاره خير او خيرات کوي، يا د خيرات ورکولو په مقابل کې پر مسکينانو باندې خپل منت او احسان ږدي، يا ايذاء، او ضرر وررسوي، يعنې دا داسې دی لکه چې يو سړی د خپل ځلميتوب، او قوت په وخت کې يو ښه باغ (بڼ) تيار کړي، چې د ضعف

او زړښت په وخت کې يې مېوې وخوري، او د ضرورت په وخت کې يې په ښه او کار ورشي، نو کله چې دی ضعیف او سپین ږیری شي، او د هغه باغ مېوې هم خپلې ترڅې او زیاتوالي ته ورسیږي، نو دا باغ د ده د عین احتیاج او اړتیا (محتاجی) په وخت کې وسوځي، یعنې خیر خیرات او صدقات لکه مېوه دار باغ داسې دی، چې د هغه مېوه په آخرت کې په کار ورځي، کله چې د چا نیت خراب وي، نو د ده دا باغ سوځي، نو بیا د هغه مېوه چې ثواب دی، په آخرت کې څرنګه د هغه په ښه ورشي؟ حق سبحانه و تعالی داسې په ښکاره او صاف ډول سره خلقو ته پند ورکوي، او دوی پوهوي، څو ښه وپوهیږي، او د ده د قدرت په علائمو او آثارو ښه غور، او فکر وکړي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَنفِقُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ ۖ وَلَا تَيَمَّمُوا۟ ٱلْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن تُغْمِضُوا۟ فِيهِ ۚ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ حَمِيدٌ ﴿٢٦٧﴾

ای هغو کسانو ! چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) خرچ کوئ ! له حلالو (پاکو، غورو) دهغو مالونو چې (په کسب سره) تاسې ګټلي او له هغو (شیانو) چې ایستلي دي مونږ تاسې لره له ځمکې څخه (د حلالو،پاکو، غورو شیانو)، او قصد مه کوئ تاسې د (ورکولو) دخبیثو (حرامو نابودو شیانو) له هغه ماله چې لګوئ یې تاسې (د الله په لاره کې) حال دا چې نه یئ تاسې اخیستونکي د هغه (ناکاره شي په خپل حق کې) مګر (خو یې داسې اخلئ) چې سترګې پټې کړئ په (اخیستو د) هغه کې، او پوه شئ ! چې بېشکه الله غني دی (بې پروا له هر چا او هر شي، ورته تل ښه ستاینه «صفت» او) ثنا ویلی شوی.

تفسیر: یعني دالله تعالی په نزد دصدقاتو دمقبولیت شرط دا دي چې خیرات دې دحلال مال څخه وي او هیڅ شبهه دې په کې نه وي او هم په مال ښه او غوره شیان باید خیرات او صدقه شي لکه څرنګه چې یو خراب مال قبلول ستاسې زړه نه غواړي، دالله په لار کې یې هم مه ورکوئ نو الله تعالی هم ښه او غوره شي خوښوي.

ٱلشَّيْطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِٱلْفَحْشَآءِ ۖ وَٱللَّهُ يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦٨﴾

شیطان وعده درکوي تاسې ته دخوارئ (او وېروي مو چې خوار به شئ)، او حکم کوي تاسې ته په (کولو د) ناوړو (غلطو) کارونو، (لکه بخل)، او الله وعده کوي له تاسې سره د مغفرت (د ګناهونو) له خپله (لوري) او د فضل (د انفاق په بدل کې)، او الله پراخ دی (رحمت، فضل، او احسان د ده)، ښه عالم دی (پر ټولو احوالو).

تفسیر: که د چا په زړه کې داسې خیال وګرځي: «که خیرات ورکړم، نو خوار او مفلس به شم»، نو ښایي چې دې یقین او اعتماد ولري: چې دا خبره د شیطان له خوا دهغه په زړه کې لوېدلې ده، او داسې دې نه وایي چې: «ما خو د شیطان شکل په سترګو نه دی لیدلی، نو د هغه حکم به ماته څرنګه القاء کیږي؟» او که دا خیال یې په زړه کې وګرځي، چې د «صدقې» او خیرات په وسیله یې مغفرت ور په برخه کیږي، او په مال کې یې زیاتوالی او برکت پیدا کیږي، نو ودې پوهیږي، چې دا خبره د الله تعالی له خوا د هغه په زړه کې لوېدلې ده، نو دالله جل جلاله شکر دې وباسي، او د الله عم نواله په خزانه کې د هیڅ شي کمی نشته، او د ګردو په ظاهر او باطن «خبیر» دی.

يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿٢٦٩﴾

ورکوي (الله) حکمت (نافع علم سره له عمله) هر چا ته چې اراده وکړي (د ورکولو يې) او هر چا ته چې ورکړ شو حکمت (نافع علم سره له عمله) نو په تحقيق سره ورکړی شو (ده ته) خير ډېر، او نه اخلي پند مګر خاوندان د عقلونو (صافو چې د وهم او نفسي غوښتنو شوائب په کې نه وي).

تفسير: يعنې هر هغه چا ته چې الله اراده وکړي، علم تحقيق، د عمل تدقيق، او د ديني خبرو او خيرات ورکولو پوهه ورکوي، چې په کوم نيت؟ او له کوم مال څخه؟ او چا ته؟ او کوم ډول سره يې محتاج ته ورکړي؟، او هر چا ته چې پوهه ورکړی شوې ده، هغه ته د دنيا او عقبى لوی نعمت او ښېګڼه په برخه شوې ده، ابو الليث رحمه الله وايي چې: «الله جل جلاله دنيوي مال ته ﴿قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيْلٌ﴾ او علم ته ﴿خَيْرًا كَثِيْرًا﴾ فرمايلي دي، نو ښايي چې علم او پوهنې ته ډېر اهميت ورکړی شي !».

وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ نَّفَقَةٍ اَوْ نَذَرْتُمْ مِّنْ نَّذْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُهٗ ۗ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿٢٧٠﴾

او هغه شی چې صرف کړئ تاسې له نفقې (لکه زکات او خيرات، لږ يا ډېر) يا (يې) لازم کړئ (پخپل ځان) له کوم نذره، نو بېشکه الله تعالى ته معلوم دی هغه، او نشته لپاره د ظالمانو (چې بې ځايه مال صرفوي) هيڅ مدد کوونکی (ساتونکی له عذابه د الله).

فائده: «نذر» په منلو سره واجبيږي، نو که بيا يې ادا نه کړي ګناهګاريږي، «نذر» پرته د الله تعالى په نامه؛ د بل چا په نامه روا نه دی.

اِنْ تُبْدُوا الصَّدَقٰتِ فَنِعِمَّا هِيَ ۚ وَاِنْ تُخْفُوْهَا وَتُؤْتُوْهَا الْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَيُكَفِّرُ عَنْكُمْ مِّنْ سَيِّاٰتِكُمْ ۗ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿٢٧١﴾

که ښکاره کوئ تاسې خيراتونه پس ښه کار دی (ښکاره کول د) هغه، او که پټوئ يې تاسې (په وخت د ورکولو کې) او ورکوئ يې تاسې فقيرانو ته نو دا (پټ ورکول بهتر او) خير دی تاسې ته، او لرې به کړي (الله) له تاسې نه ځينې د ګناهونو ستاسې، او الله په هغو کارونو چې کوئ يې تاسې ښه خبردار دی (او هيڅ شی ترې پټ نه دی).

تفسير: که خلقو ته د ورښوولو په نيت نه وي، نو خيرات ورکول په ښکاره ډول سره بهتر دی، چې د نورو شوق او رغبت هم ورته وشي، او په پټه سره هم خيرات ورکول ښه دي، چې اخيستونکي ته حيا ورنشي، لنډه يې دا چې اظهار او اخفاء دواړه بهتر دي، مګر د هرې موقع او مصلحت لحاظ يوه ضروري خبره ده.

لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰىهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلِاَنْفُسِكُمْ ۗ وَمَا تُنْفِقُوْنَ اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ اللّٰهِ ۗ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ يُّوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ﴿٢٧٢﴾

نشته پر تا باندې (پر سمه صافه لاره) برابرول د دوی، وليکن الله (په سمه صافه لاره) برابروي هغه څوک چې اراده وکړي (د برابروالي يې) او هر هغه شی چې صرفوئ (يې) تاسې له خيره (له مال

نه) پس لپاره د نفسونو (ځانونو) ستاسې دی، او نه صرفوئ تاسې (کوم شې ای مؤمنانو !) مګر (صرفوئ يې) خاص لپاره دليدو د مخ د الله جل جلاله، او هر هغه شی چې صرفوئ (يې) تاسې له خيره (له مال نه) نو پوره به درکړ شي تاسې ته (ثواب د هغه) او په تاسې به ظلم ونه کړ شي (د ثواب په کموالي سره).

تفسير: کله چې رسول اکرم صلی الله عليه وآله وصحبه وسلم خپلو اصحابو ته امر ورکړ؛ چې له مسلمانانو ځنې پرته بل هيڅا ته خيرات مه ورکوئ !، او په دې امر سره دا مصلحت وو چې د مال او شتو له امله کافران د اسلام په لوري راغب شي، نو وروسته له دې نه يې داسې امر وفرمايه چې: دا ثواب به هلته دررسيږي، چې له خيرات ورکولو ځنې د الله تعالی خوښي مطلوبه وي، نو دا آيت نازل شو، او په دې کې عام حکم راغی، چې د پاک الله په لاره کې چې هر چا ته مال ورکړئ؛ د هغه ثواب تاسو درکاوه کيږي، د مسلم او غير مسلم څه تقييد نشته، يعنې هر چا ته صدقه ورکوئ، ښايي چې يواځې د پاک الله په نامه وي، په هغه کې د مسلمان او نا مسلمان څه تخصيص نه دی پکار، يواځې په صدقه ورکولو کې دغه خبره ضروري ده، چې محض «لوجه الله» وي.

لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ
الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُمْ بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا
وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ﴿٢٧٣﴾

(خيراتونه) ستاسې لپاره د هغو فقيرانو دي چې بند کړی شوي دي په لاره د الله (په جهاد او نورو طاعاتو) کې، چې توان نه لري دوی د ګرځېدلو په ځمکه کې (لپاره د معاش او تجارت، د الله په اطاعت او عبادت کې د مشغولتيا په سبب)، ګمان کوي په دوی باندې ناپوه (په حال د دوی) د غنيانو، په سبب د نه سوال کولو په کوښښ سره، پيژنې به ته (ای سامعه !) دوی، په ځېرو (علائمو د تواضع او اثر د مجاهدې) د دوی سره، نه کوي دوی سوال له خلقو ځنې په سختی (په الحاح او کوښښ) سره، او هر شی چې تاسې صرفوئ (يې په هر شي کې) له خيره (له مال نه) پس بېشکه الله په هغه باندې (هم) ښه عالم دی.

تفسير: يعنې داسې خلقو ته صدقه ورکول ډېر ثواب لري، چې د الله جل وعلی شأنه په لاره کې او دهغه د دين په کار کې مشغول او مقيد وي، او د تګ او راتګ او د خوړو، لباس، او نورو له ګټلو ځنې پاتې وي، او هيڅا ته خپل حاجت او اړتيا (محتاجي) نه ښکاروي، لکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم ځينې اصحاب داسې هم وو؛ چې دوی خپل کور کهول خوشې کړی وو، او د (صفې) په اصحابو کې شامل شوي وو، او پخپله خوښه او رضا سره د پاک محمد صلی الله عليه وسلم صحبت او خدمت يې خپلو ځانو ته غوره کړی وو، ديني علوم به يې زده کول، مفسدينو او شر اچوونکو سره به يې «جهاد» کاوه، همداسې اوس هم پر مسلمانانو باندې د هغو کسانو امداد او مرسته حتمي او ضروري ده، چې د قرآن عظيم الشأن په يادولو، يا د دينی علومو په تحصيل کې بوخت او مشغول دي، د ځېرې له پېژندلو ځنې دا مطلب دی چې د هغوی ځېرې ډېرې ژېرې او بدن يې نرۍ را برېښي، او د جد او جهد آثار د هغوی په مخونو کې له ورايه ښکاريږي.

الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ
رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٤﴾

هغه کسان چې صرفوي مالونه خپل (د الله په لاره کې) په شپه او ورځ کې په پټه او په ښکاره؛ پس (شته) دوی ته اجر (ثواب) د دوی، په نزد د رب د دوی، او نشته (هيڅ ډول) وېره په دوی باندې، او نه به دوی هيڅکله غمجن کيږي (د ثواب په نقصان سره).

اَلَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ الرِّبٰوا لَا يَقُوْمُوْنَ اِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِيْ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ ۭ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْٓا اِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبٰوا ۘ وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا ۭ

هغه کسان چې خوري (يعنې اخلي) سود (له خلقو)؛ نه پاڅيږي دوی (د قيامت په ورځ کې) مګر (پاڅيږي داسې) لکه چې پاڅيږي هغه څوک چې حواس يې خراب کړي وي شيطان له (خپله) اثره، دا (حال د دوی) په سبب د دې دی، چې دوی ويل چې: بېشکه هم دا خبره ده، چې تجارت خو هم داسې دی(په جواز کې) لکه سود، حال دا چې حلال کړی دی الله تجارت او حرام کړی يې دی سود.

تفسير: سود خور په قيامت کې داسې له خپل قبر ځنې پورته کيږي، لکه لېونی او هغه څوک چې حواس يې خراب شوي وي، او دا حالت به د دې له امله وي، چې ده حلال او حرام سره ګډول، او دا يې ځکه کول چې په دغو دواړو کې يې ګټه مقصوده وه، او دا دواړه يې حلال ګڼل، حال دا چې د «بيعې» او «ربا» په منځ کې ډېر فرق شته، «بيع» دالله تعالى لخوا حلاله، او «ربا» حرامه ده.

فائده: هغه نفع چې په «بيع» کې ده؛ هغه د مال په مقابل کې ده، لکه څوک چې د يوې درهمې جامه په يوه نيمه درهمه خرڅه کړي، او «سود» هغه دی چې څوک پکې بلا عوضه نفع واخلي، لکه چې د يوې درهمې په عوض کې دوې درهمې واخلي، په لومړني صورت کې کله چې جامې او درهمې دواړه سره ببل ببل شيان دي، او د دوی د هر يوه نفع او غرض سره جلا (جدا) دی، نو ځکه د هغوی په منځ کې موازنه او «مساوات في نفسه» صحيح نه دی، او کله چې خرڅولو او اخيستلو ته حاجت پيدا شي، نو د موازنې او مساوات لپاره دخلقو د ضرورت او حاجت څخه پرته بل کوم شی نشته، او د دوی د هر يوه ضرورت او رغبت له حده زيات مختلف دی.

فَمَنْ جَاۗءَهٗ مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ فَانْتَهٰى فَلَهٗ مَا سَلَفَ ۭ وَاَمْرُهٗٓ اِلَى اللّٰهِ ۭ وَمَنْ عَادَ فَاُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝

پس هر څوک چې راشي ده ته پند له (طرفه د) رب د ده؛ پس منع شو (له سوده) پس معاف دی ده ته هغه شی چې پخوا يې اخيستی دی، او معامله يې الله ته (سپارلې شوې) ده، او هر څوک چې بېرته وګرځېده (سود ته او حلال يې وګڼه) نو دغه کسان صاحبان د اور (د دوزخ) دي، چې دوی به په دې اور کې تل وي.

تفسير: يعنې هغه سود چې له حرمت څخه يې پخوا اخيستی دی په دنيا کې؛ د هغه د استرداد امر د هغه خاوند ته نه ورکاوه کيږي، يعنې تاسې حق نه لرئ چې د هغه مطالبه وکړئ، او په آخرت کې حق سبحانه وتعالى اختيار لري؛ چې هغه پخپل فضل او مرحمت سره وبخښي، خو وروسته له حرمته، که بيا هم څوک د سود له اخيستلو ځنې لاس وانخلي، بلکه بې پروا يې وخوري، نو هغه دوزخي دی، او د الله تعالى د حکمونو په مقابل کې د خپلو عقلي دليلونو د وړاندې کولو سزا يې همغه ده چې پاک الله يې فرمايي.

يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَيُرْبِي الصَّدَقٰتِ ۭ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ اَثِيْمٍ ۝

ورک کوي الله (برکت د) سود، او زياتوي (ثواب د) خيراتونو، او الله محبت نه کوي له هر سخت کافر ګناهګار سره (بلکه دغه ناشکر د حرامو حلالوونکی معذبوي هم).

تفسير: الله تعالى د سود مال نابود او تباه کوي، يعنې په هغه کې هيڅ خير او برکت نه وي، بلکه د هغه اصل مال هم ضائع کيږي، په حديث کې راغلي دي، چې: «د سود مال په هره اندازه چې زيات شي؛ آخر يې افلاس او تاوان دی»،

او دخيرات د مال له زيادت ځنې دا مطلب دی چې په هغه مال کې زيادات راځي، او پاک الله په هغه کې خير او برکت ږدي، او د هغه ثواب ډيروي، لکه چې په احاديثو کې هم راغلي دي.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾

بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی (په ټولو مؤمن به شيانو) او کوي دوی ښه (عملونه) او قائموي دوی (سم ادا کوي سره له ټولو حقوقو په ترتيب) لمونځ، او ورکوي دوی زکات، شته دوی لره اجر (ثواب) د دوی په نزد د رب د دوی، او نشته (هيڅ ډول) وېره په دوی باندې، او نه به دوی (هيڅکله) غمجن کيږي (د ثواب په نقصان سره).

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) ووېرېږئ ! له الله نه، او پرېږدئ ! هغه چې پاتې شوي دي له سوده؛ که يئ تاسې مؤمنان (ايمان لرونکي په شريعت په رښتيا سره).

تفسير: يعنې پخوا له دې ممانعت ځنې؛ څه سود مو چې اخيستی ده بلا پسې، خو وروسته له دې ممانعته هغه سود چې اوښتی دی، مه يې اخلئ !.

فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ۖ وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾

پس که ونه کړ تاسې (دا کار) نو آګاه شئ (او ځان تيار کړئ) تاسې جنګ ته له (طرفه د) الله او رسول د ده، او که توبه ګاره شوئ تاسې (له اخيستلو د سوده) نو شته تاسو لره اصل د مالونو ستاسې، مه کوئ تاسې ظلم (چې سود به هم غواړئ) او نه دی ظلم کاوه شي پر تاسې (چې له رأس المال څخه مو څه ستون کړی شي).

تفسير: يعنې هغه پخوانی سود مو چې اخيستی دی، که هغه په خپل رأس المال کې حساب او له رأس المال ځنې يې کم کړئ، نو پر تاسې باندې ظلم او تېری کيږي، او وروسته له ممانعته که تاسې اوښتی سود وغواړئ، نو دا ستاسو ظلم دی.

وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ ۚ وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٨٠﴾

او که وو پوروړی (قرض وړونکی) خاوند د ناداری نو پر تاسې لازم دی انتظار پوروړی (قرض وړونکی) ته تر وخته د پراخی - د پوروړي (قرض وړونکي) او دا چې بخښنه وکړئ تاسې (دی پوروړي ته) خير (ډېره بهتره) ده تاسې ته که يئ تاسې چې پوهيږئ (په هغه خير).

تفسير: يعنې کله چې د سود ممانعت وشو، او د هغه اخيستل او ورکول موقوف شول، نو اوس تاسې خپل پور (قرض) له مفلس پوروړي ځنې درګرده غواړئ، داسې غوښتنه نه ده پکار، بلکه ناداره لره مهلت ورکړئ ! او که مو د لاسه کيږي هغه (قرض) وروبخښئ !.

وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ اِلَى اللّٰهِ ۗ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۲۸۱﴾

او وويرېږئ تاسې له (عذابه د) هغې ورځې چې بېرته بېول کيږئ تاسې په هغې کې طرف د الله ته، بيا به پوره ورکړی شي هر نفس ته (جزا) د هغه عمل چې (ده له خيره يا شره) کړی وي، او په دوی به ظلم ونه کړ شي (د عذاب په ډېروالي يا د ثواب په لږوالي سره).

تفسير: يعنې په قيامت کې به د ګردو اعمالو جزا او سزا ورکوله کيږي، نو اوس دې هر څوک فکر وکړي چې ښه کار کوي که بد؟ ګټه او سود اخلي؟ يا خيرات ورکوي؟

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوْهُ ۭ وَلْيَكْتُبْ بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌۢ بِالْعَدْلِ ۠ وَلَا يَاْبَ كَاتِبٌ اَنْ يَّكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللّٰهُ فَلْيَكْتُبْ ۚ وَلْيُمْلِلِ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْـــًٔا ۭ

اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې اې مؤمنانو !) کله چې يو له بله سره معاملې کوئ تاسې په پور (قرض) سره تر نېټې ټاکلې (مقرر کړې) شوې پورې؛ نو وليکئ تاسې هغه (پور - قرض) ! او ودې ليکي (کاغذ د پور - قرض) په منځ ستاسې کې يو کاتب په عدل (انصاف سره واقعا، نه کم او نه زيات)، او منع دې نه راوړي (هيڅ يو) کاتب (د دې کاغذ) له ليکلو څخه، (او ښايي چې وليکي دا معامله) هغسې چې ښوونه کړېده کاتب ته الله، نو ودې ليکي، او بيان دې وکړي (کاتب ته) هغه څوک چې په ده باندې حق (پور - قرض) دی، او ودې ويرېږي (کاتب) له الله چې رب د ده دی، او نه دې کموي له هغه (حقه) هيڅ شی، (يعنې دی دې هم په اقرار کې هيڅ زياتوالی او کموالی، تغيير او تبديل نه کوي).

تفسير: د پور (قرض) په نسبت داسې معلوميږي چې دا ډول معامله جائزه ده، مګر هر کله چې دا معامله په راتلونکې مودې پورې اړه لري، او د هېرې، مړينې (مرګ)، نشتوالي، او د نورو جنګ جګړو احتمال هم په کې شته، نو ځکه ضروري ده چې د هغې د ادا کولو نېټه په داسې اهتمام سره وټاکله (مقرره) شي !، چې وروسته له هغه داسې کومه جګړه او مخالفت په کې پېښ نه شي، او د هغې صورت همدا دی چې دا خبره پر يوه کاغذ باندې وليکئ، او د بېرته وررسولو نېټه وټاکله (مقرره) شي !، او د پور (قرض) ورکوونکي او پوروړي (قرض وړونکي) نومونه او ښکاره پېژندګلوی، او د هغې معاملې پورې نور تړلي تفصيلات او لازمي خبرې په صاف او ښکاره ډول سره وليکلی شي !، او ليکونکي (کاتب) لره ښايي چې بې له انکاره همغسې چې د شرعې شريفې حکم دی؛ له هغه سره يې سم او برابر وليکي !، او له عدل او انصاف څخه لرې نه شي !، ښه خو دا دی چې دا حجت خپله پوروړی (قرض وړونکی) پخپل قلم سره وليکي !، يا يې ليکونکي ته ووايي، چې هغه يې سم د ده له وينا سره وليکي، او د بل چا په حق کې هيڅ ډول نقصان او تاوان پېښ نه کړي !.

فَاِنْ كَانَ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيْهًا اَوْ ضَعِيْفًا اَوْ لَا يَسْتَطِيْعُ اَنْ يُّمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهٗ بِالْعَدْلِ ۭ

پس که وو هغه څوک چې په ده باندې حق (پور يا قرض) دی؛ کم عقل (مبذر، بې وقوف، او لېونی) يا ضعيف (لکه ووړ، يا ډېر زوړ «بوډا»)، يا يې توان نه وي چې اقرار وکړي (چې ګنګ

وي، يا د کاتب په ژبه نه پوهيږي) دی پخپله، نو بيان دې وکړي ولي (واکدار) د ده په عدل (انصاف سره چې سمه خبره ووايي، نه کمه نه زياته).

تفسير: يعنې هغه مديون او پوروړی چې کم عقل يا ناپوه يا مبذر يا ضعيف يا سست يا ببړا وي، لکه چې ووړ، يا زوړ، او د معاملې د پوهېدلو پوهه نه لري، يا د هغې معاملې لازمي خبرې ليکونکي ته نشي ويلی (لکه چې ګونګی وي، يا د کاتب په ژبه نه پوهيږي) نو په داسې صورت کې د مديون - واکدار يا وارث يا ولي يا وصی دې هغه معامله په عدل او انصاف سره بې له زياتوالي او کموالي پای ته ورسوي !، او ليکونکي ته دې ووايي چې ويې ليکي.

وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ أَن تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَىٰ

او شاهد ونيسئ تاسې (په خپلو معاملاتو کې) دوه شاهدان له سړيو ستاسې (چې مسلمانان، عاقلان، او بالغان وي) پس که نه وو دوه نارينه (شاهدان) نو يو سړی دې وي او دوه ښځې له هغو کسانو چې تاسې ترې راضي يئ (د عدالت له کبله) له شاهدانو (د ښځو دا تعدد د دې لپاره دی که) هېره کړي (دا شاهدي) يوه له دې دواړو؛ نو ور په ياد به کړي هغه يوه له دې دواړو (چې ور په يادوي) هغې بلې (هېر زړې ته).

تفسير: او تاسې ته ښايي چې په دې معاملې کې لږ تر لږه دوه نارينه يا يو نارينه او دوې ښځې شاهدانې ونيسئ !، (ځکه چې په ښځو کې عقل کم او هېره ډېره وي) او شاهد هم ښايي د غوره کولو وړ يعنې لائق د اعتماد او د اعتبار خاوند وي «له سړيو ستاسې»؛ يعنې هغه دوه تنه مسلمانان، عاقلان، بالغان، او اصيلان وي، او د کافر شاهدي قبوله نه ده».

وَلَا يَأْبَ الشُّهَدَاءُ إِذَا مَا دُعُوا ۚ وَلَا تَسْأَمُوا أَن تَكْتُبُوهُ صَغِيرًا أَوْ كَبِيرًا إِلَىٰ أَجَلِهِ ۚ ذَٰلِكُمْ أَقْسَطُ عِندَ اللَّهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنَىٰ أَلَّا تَرْتَابُوا

او نه دي منع راوړي شاهدان کله چې وبلل شي دوی (شاهدي ته)، او مه خوابدي کيږئ (ای معامله دارانو !) له دې چې وليکئ دا (حق که) لږ وي او که ډېر وي تر نېټې د هغې پورې، دا (ليکل) ستاسې پوره عدل دی په نزد د الله، او ښه مرسته کوونکی (ډېر محکم) دی لپاره (د اداء) د شاهدی، او ډېر نږدې دی دې ته چې شکمن نه شئ تاسې (د دې معاملې په نېټه او مقدار کې).

تفسير: يعنې هر کله چې څوک د شاهد کېدلو يا د شهادت د اداء کولو لپاره وغوښتل شي، نو منع دې نه راوړي، او نه دې انکار او نه دې په کې سستي کوي !، او ښايي چې د معاملاتو په ليکلو کې هيڅ ډول قصور او اهمال ونه کړ شي ! (تر دې چې نېټه دې هم په کې وليکلی شي !) عام له دې نه چې هغه معامله وړوکې وي، که لويه، ځکه پوره عدل او انصاف په همدې کې دی، او په شهادت کې هم زيات ډاډ په همدې ليک باندې دی، او د نه هېرېدو او نه تېروتلو او د هيڅا د حق د نه ضايع کېدلو اطمينان او تسلي هم په همدغه ليک باندې ده.

إِلَّا أَن تَكُونَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلَّا تَكْتُبُوهَا ۗ وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ ۖ وَلَا يُضَارَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ ۚ

مګر که وي (دا معامله) ستاسې تجارت په حضور (لاس په لاس) چې چلوئ يې تاسې (په راکړه او ورکړه سره) په خپلو منځو کې پس نشته پر تاسې باندې هيڅ ګناه چې ونه ليکئ تاسې دا

(معامله)، او شاهدان ونيسئ تاسې ! کله چې يو له بله سره اخيستل او يا خرڅول کوئ تاسې !، او نه دې رسوي نقصان کاتب او نه شاهد، (يعنې په کتابت او شهادت کې دې څه زياتوالی او کموالی نه کوي - يا) او ضرر دې نه رسولی شي کاتب ته، او نه شاهد ته (يعنې که معذور وي، زور دې پر هيڅوا و نه کړ شي).

تفسير: يعنې که د سوداګرۍ معامله لاس په لاس وي، د جنس په بدل کې جنس يا نغده معامله وي، او د پور (قرض) معامله نه وي، نو په دې صورت کې يې نه ليکل وبال نه دی، خو شاهد نيول په هسې معاملو کې ضرور دي، چې په هغې کې وروسته له دې نه کومه جګړه او جنجال پېښ نه شي، او ښايي چې ليکونکی او شاهد هيڅوا ته کوم تاوان ورپېښ نه کړي، يعنې نه دې مدعي او نه دې مدعی عليه ته څه نقصان او تاوان رسوي، بلکه همغه حق دې ادا کړي، چې د ده په غاړه واجب دی (او هم داسې کاتب او شاهد ته دې هم څه ضرر نه رسوي).

وَإِنْ تَفْعَلُوا فَإِنَّهُ فُسُوقٌ بِكُمْ ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ وَيُعَلِّمُكُمُ اللَّهُ ۗ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٨٢﴾
وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ ۖ فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِي اؤْتُمِنَ
أَمَانَتَهُ وَلْيَتَّقِ اللَّهَ رَبَّهُ ۗ وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ ۚ وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ
عَلِيمٌ ﴿٢٨٣﴾

او که وکړ تاسې (دا کار د اضرار) نو بېشکه دا ګناه ده (لاحقه) په تاسې پورې، او وويرېږئ تاسې له الله نه، او ښوونه (د احکامو) کوي تاسې ته الله، او الله په هر شي باندې ښه عالم دی، (او ګرد شيان ورته ښه معلوم دي). او که يئ تاسې په سفر باندې او ومو نه موند کوم کاتب نو (واخلئ) ګروې قبض کړی شوې، پس که امين (معتبر) وګڼل ځينو ستاسې ځينې (نور، چې ګروي يې وانه خيستله) نو اداء دې کړي هغه څوک چې امين ګرځولی شوی وي امانت د ده (يعنې د پور ورکوونکي)، او ودې ويريږي له الله څخه چې رب د ده دی، او مه پټوئ شهادت (ای شاهدانو يا ای مديونانو ! چې ګويا اقرار هم په خپل ځان باندې شاهدي ده)، او هر چا چې پټه کړه دا (شاهدي) نو بېشکه شان دا دی چې: ګناهګار دی زړه د ده، او الله (په هغو کارونو) چې کوئ (يې تاسې) ښه عالم دی، (او هر شی ښه ورته معلوم دی).

تفسير: يعنې که په سفر کې د قرض او پور معامله درپېښه شي، او حجت او سند ليکلو ته موقع او فرصت نه وي، او ليکونکي مو په لاس درنشي، نو پوروړی (قرض وړونکی) دې د خپل پور (قرض) په عوض کې کوم شی ګرو (ګانه) ورته کيږدي.

فائده: په «سفر» کې د «حضر» په نسبت ګروي (ګانې) ته زيات ضرورت پېښيږي، ځکه ليکل او شاهدي په «حضر» په اسانۍ سره صورت مونډلی شي، او پور (قرض) ورکوونکي ته په اسانۍ سره اطمينان او تسلي پيدا کيږي، نو ځکه په سفر کې د «رهن» او ګروی (ګانې) اخيستلو حکم وشو، که نه په «حضر» او د ليکونکي او شاهدانو په موجوديت کې هم د ګروی (ګانې) اخيستل روا دي، که پور (قرض) ورکوونکی پخپل پوروړي (قرض وړونکي) باندې اطمينان او اعتبار لري، او پرې ډاډه وي، او ترې ګروي (ګانه) ونه غواړي، نو پر پوروړي لازم دي چې د پور (قرض) د خاوند حق پوره او کامل ادا کړي !، او له الله تعالی جل جلاله ځنې ووېرېږي !، او د حق د خاوند په حق کې دې په امانت سره معامله وکړي !.

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ۖ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٨٤﴾

(خاص) الله لره دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي، او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي: (له موالیدو، عناصر، او نورو ټولو علویاتو او سفلیاتو، سره له اسمانو او ځمکې ملکاً وخلقاً وعبیداً)، او که ښکاره کړئ تاسې هغه (ارادې او بد نیتونه) چې په زړونو ستاسې کې دي، یا پټ کړئ تاسې هغه، حساب به وکړي له تاسې سره په هغه باندې الله، پس مغفرت کوي هغه چاته چې اراده وکړي (الله د مغفرت یې) او په عذابوي به هغه څوک چې اراده وکړي (الله د عذابولو یې) او الله په هر شي باندې ښه قادر دی (له ثوابه او عقابه او حسابه هم).

تفسیر: هغه پاک ذات چې پر مونږ باندې د عبادت استحقاق لري، ښایي چې مالک وي، هغه ذات چې ځمونږ د ټولو پټو او ښکاره وو کارونو حساب او کتاب اخیستی شي، ښایي چې په ګردو امورو باندې ښه «علیم» او «خبیر» وي، او هغه ذات چې ځمونږ د تمامو شیانو حساب اخیستی شي، او مونږ ته د ښو او بدو چارو په مقابل کې جزا او سزا راکولی شي، ښایي چې په ګردو شیانو باندې قدرت ولري، او ښه قادر وي، نو دلته یې بیا هم دا درې واړه کمالات بیان کړل؛ چې هغه «ملک، علم، قدرت» دی، او د همدې صفاتو ذکر یې په «آیت الکرسي» کې هم فرمایلی دی.

مطلب یې دا دی (**حق سبحانه وتعالی**) د ګردو شیانو مالک او خالق دی، د ده علم په ګردو مخلوقاتو او موجوداتو باندې محیط دی، د ده قدرت پر ټولو حاوي او شامل دی، نو بیا د هسې مالک الملک، علیم، بصیر، او قدیر ذات احکام نه منل عام له دې نه چې د الله تعالی دغه نافرماني په پټه سره وي که په ښکاره سره، څرنګه به مناسب وي؟ او بیا به دا نافرمان بنده څنګه د الله تعالی له عذابه ځان ژغوري (ساتي)؟

آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ آمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ ۚ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ ۚ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ﴿٢٨٥﴾

ایمان راوړی دی رسول په هغه شي چې نازل کړی شوی دی ده ته له (طرفه د) رب د ده، او مؤمنانو(هم ایمان راوړی دی) ټولو (دوی) ایمان راوړی دی په الله باندې، او په پرښتو باندې د ده، او په کتابونو د ده، او په رسولانو د ده (په داسې حال کې چې وایي دوی) فرق نه کوو په منځ د هیڅ یو (رسول) له رسولانو د الله کې، او وایي (رسول الله او مؤمنان): واورېده مونږ (پیغام ستا)، او قبول کړ مونږ (حکم ستا، غواړو) مغفرت ستا ای ربه ځمونږه، او (خاص) تا ته دي درتلل (د هر چا).

تفسیر: کله چې له لومړني آیت څخه دا خبره ښکاره شوه چې د هغو خبرو هم پوښتنه او حساب اخیستل کیږي؛ چې په زړونو کې ګرځي، نو أصحاب کرام رضي الله عنهم وویرېدل، او له دې آیت ځنې داسې زیات متأثر شول، چې د هغه په شان له هیڅ یوه بل آیت ځنې نه وو متأثر شوي، نو دوی پاک رسول صلی الله علیه وسلم ته شکایت ور وړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ﴿وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا﴾ یعنې که څه سختي مو په نظر درځي، یا څه خپګان درپېښ شي، نو د حق تعالی د دې امر او ارشاد په منلو او تسلیم کې لږ څه توقف او ډیل مه کوئ !، او د زړه له اخلاصه عرض ورته وکړئ چې ﴿سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا﴾ دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم امر او ارشاد سره سم کار وکړ، نو دغه کلمات د زړه د انشراح په توګه (طور) د دوی پر ژبو باندې جاري شول، چې د هغه مطلب دا

دې چې: مونږ ایمان لرونکي یو پر الله تعالی چې (واحد، احد، صمد، لا شریک له، ازلي، ابدي، د کمال په ټولو صفاتو موصوف، او له هر عیب او نقصان څخه پاک دی، او یواځې همدې د عبادت او بندګۍ مستحق دی)، او ایمان لرونکي یو پر ملائکو د الله چې: مقربې بندګانې د الله تعالی دي، نه ذکور دي، نه اناث، او د الله تعالی ډېرې مطیعې او حکم منونکي، او یوه «طرفة العین» هم د الله تعالی له عبادت، تسبیح، او تقدیس ځنې نه غافلیږي، او ایمان لرونکي یو په ټولو کتابونو د الله تعالی چې دغه ټول کتابونه د الله تعالی له طرفه لېږل شوي دي، او ایمان لرونکي یو په رسولانو د الله چې ګرد په حق دي، او بیخي له دروغو معصوم دي، هر څه چې وایي او راوړي یې دي؛ هغه ټول له الله جل جلاله څخه دي، او فرق نه کوو مونږ په اصل د رسالت کې په منځ د هیڅ یو له دغو رسولانو، او د الله تعالی د حکم اطاعت مو وکړ، یعنې خپګان، خطره، او نورې ګردې خرخشې مو پرېښودې، او د الله تعالی ارشاد مو تعمیل کړ، او د هغه لپاره مو خپله تیاري او چمتوالی ښکاره کړ، حق تعالی دا خبره قبوله کړه، نو دا دواړه آیتونه نازل شول، اول: ﴿اٰمَنَ الرَّسُوْلُ﴾ الآیه - چې حق سبحانه وتعالی په ده کې د رسول صلی الله علیه وسلم او وروسته له هغه د ده د هغو اصحابو چې هغوی ته ذکر شوی تشویش پېښ شوی وو، او په دې سره یې دفع وشوه، د ایمان مدح او ستاینه (صفت) په تفصیل سره وفرمایله چې: له هغې څخه د هغوی زړونه ډاډه او اطمینان یې ترقي وکړي، او هغه پخوانی خطرې یې ورکې شي، او وروسته له دې نه په بل آیت کې چې ﴿لَا یُکَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا﴾ الآیه - دی فرمایي چې: له توان او مقدرت زیات هیڅا ته تکلیف نه ورکاوه کیږي، او که د چا په زړه کې دګناه خیال او کومه خطره وګرځي، خو په هغه باندې عمل نه کوي، نو پر ده باندې هیڅ ګناه نشته، او سهو او تېروتنه یې هم معاف دي، لنډه یې دا چې صاف یې وفرمایل چې: له هغو خبرو ځنې چې ځان ژغورل (ترې سخت دي)، لکه د خراب کار خیال، خطره، تېروتنه، او سهو په هغو باندې هیڅ مؤاخذه نشته، هو په هغو خبرو باندې چې د بنده په واک (قبضه) او اختیار دي نیول کیږي، نو پخوانی آیت چې ورځخه د اصحابو تشویش پیدا شوی وو، ښایي چې د هغه معنی هم د دویمې قاعدې سره سمه واخیستله شي، لکه چې هم داسې وشوه، او دغه یاده شوې خطره داسې بیخي له منځه لاړه، سبحان الله !.

فائده: له دې چې «نه کوو فرق په منځ د هیڅ رسول له رسولانو د الله کې» دا مطلب دی، چې مونږ د یهودانو او نصرانیانو په شان نه یو، چې هغوی یو رسول مني، او بل رسول نه مني.

لَا یُکَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ؕ لَهَا مَا کَسَبَتْ وَعَلَیْهَا مَا اکْتَسَبَتْ ؕ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ اِنْ نَّسِیْنَآ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَیْنَآ اِصْرًا کَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَی الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ وَاعْفُ عَنَّا ۟ وَاغْفِرْ لَنَا ۟ وَارْحَمْنَا ۟ اَنْتَ مَوْلٰىنَا فَانْصُرْنَا عَلَی الْقَوْمِ الْکٰفِرِیْنَ ﴿۲۸۶﴾

تکلیف نه ورکوي، او نه مکلف کوي الله هیڅ نفس مګر (په اندازې د) طاقت د ده، (دی) دې نفس لره (ثواب د) هغه نیک عمل چې کړی (یې) دی، او (شته) په ده باندې (وبال د هغه بد عمل) چې کړی یې دی، ای ربه ځمونږه ! مه نیسه مونږ که هېر کړو (حکم ستا)، یا په خطا سره وکړو (ګناه) ای ربه ځمونږه !، او مه باروه پر مونږ باندې درونده بار ! لکه چې بار کړی وو تا دغه (بار) پر هغو کسانو چې وو پخوا له مونږ، ای رب ځمونږه ! او مه باروه ته په مونږ باندې هغه (تکلیف) چې نه وي هیڅ طاقت مونږ ته په هغه سره، او محوه کړه (ګناهونه) له مونږه، او مغفرت وکړه مونږ ته، او رحم وکړه پر مونږ باندې، هم ته یې مولی (مددګار) ځمونږ؛ نو مدد وکړه له مونږ سره ! پر قوم کافرانو باندې.

تفسير: په هغو دعا وو او غوښتنو سره چې مونږ مامور شوي يو، دهغو مقصود دا دې چې: «بېشکه ته پر مونږ باندې د هر ډول حکومت حق او دعبادت استحقاق لرې، مګر ای ځمونږ ربه ! ښايي په خپل رحمت او کرم سره مونږ ته داسې حکم صادر کړې چې د هغه کول (تعميل) پر مونږ باندې سخت او درونده نه وي، او نه مونږ په تېروتلو او سهو باندې ونيسې !، او نه د پخوانيو امتونو په شان پر مونږ باندې شديد حکمونه نازل کړې ! او نه ځمونږ له طاقته ځنې زيات کوم حکم پر مونږ مقرر کړې، سره له هسې آسانۍ او سهولته که له مونږ ځنې کومه خطا او تقصير څرګند شي له هغه ځنې را تېر شه !، او ومو بخښه ! او پر مونږ رحم وکړه»، په حديث کې راغلي دي چې دا ګردې دعاوې ومنلې شوې، او په هغو سختيو پسې چې لويو اصحابو رضي الله تعالى عنهم ته ورپېښې شوې وې؛ اوس د الله تعالى په فضل او کرم او رحمت سره ځمونږ له هرې يوې سختې ځنې ډاډ، امن او سلامتي په برخه شوې ده، نو اوس مونږ د دومره يوې خبرې هيلمند (اميدوار) يو چې د پاک الله په فضل او کرم سره په کفارو باندې هم برې وومو، او پاک الله دې پر مشرکينو باندې هم مونږ ته برې او غلبه را عنايت کړي !، که نه د دوی له لوري راز راز زحمتونه او تکاليف، ديني او دنيوي هر ډول زحمتونه راوړاندې کيږي، او له هغه صعوبت او سختۍ ځنې چې د الله تعالى په فضل او کرم سره ژغورلي (ساتلي) شوي يو، د کفارو د غلبې په حالت کې به بيا هم همغه اندېښنه او خرخشه (بد خيال) زمونږ د سودا او خپګان موجب ګرځي.

تمت سورة «البقرة» بفضل الله رب البرية، يا من لك الكبرياء في الدنيا والآخرة، أدخلنا بكرمك في عبادك الكرام البررة.

سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ

«د«آل عمران« سورت مدني دی، دوه سوه آيتونه او شل رکوع لري، په تلاوت کې درېم، او په نزول کې (۸۹) يم سورت دی، د «الأنفال» له سورت څخه وروسته نازل شوی دی

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

الٓمٓ ﴿١﴾ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ﴿٢﴾

الله «چې دی» نشته هيڅوک لايق د عبادت مګر هم دې دی، چې تل ژوندی، په يو حال باقي، قايم، کامل، تدبير والا دی.

تفسير: د نجران د عيسايانو يوه شپېته کسيزه جرګه د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضره شوه، په دوی کې درې تنو ډېر شهرت او امتياز درلود: (۱) «عبد المسيح عاقب»، په امارت او سيادت کې، (۲) «أيهم السيد»، په رأيه او تدبير کې، (۳) «أبو حارثة بن علقمة»، په مذهبي علومو کې د نصرانيانو لوی عالم، «أبو حارثة» اصلا له مشهورې قبيلې (بني بکر بن وائل) سره تعلق درلود (لرلو)، بيا پوخ نصراني شو، د روم سلاطينو د ده د مذهبي صلابت، مجد او شرف د ليدلو له امله يې زيات تعظيم او تکريم کاوه، او ډېره مالي مرسته يې ورسره کوله، او يوه کليسا يې ورته جوړه کړه، او د مذهبي چارو په اعلی منصب يې مأمور کړی وو، دا جرګه د رسالت په دربار کې په ډېر شان او شوکت سره حاضره شوه، او په متنازع فيها مسايلو کې يې له رسول صلی الله عليه وسلم سره خبرې وکړې، چې د هغو پوره تفصيل د محمد بن اسحاق رحمه الله په «سيرت» کې منقول دی.

د آل عمران د سورت اتيا، يا نوي لومړني آيتونه ددې واقعې په نسبت نازل شوي دي، عيسايانو لومړنی او بنيادي عقيده دا وه چې مسيح عليه السلام کتمټ (هو بهو) پخپله الله يا د الله ځوی، او يا له دريو معبودانو ځنې دی (معاذ الله).

ددې سورت په لومړني آيت کې د پاک الله د خالص توحيد ذکر راغلی دی، او د هغه د «حي» او «قيوم» کوم صفات چې ذکر شوي دي، په هغو سره د عيسايانو دعوی په ښکاره ډول باطله شوې ده، لکه چې ځمونږ پاک رسول صلی الله عليه وسلم د مناظرې په دوران کې دوی ته وفرمايل: «آيا تاسې نه پوهيږئ چې الله تعالی حي «ژوندی» دی، او هغه لوي ذات ته مړګ هيڅکله نه پېښيږي، او پاک الله ګردو مخلوقاتو ته وجود ورکړی دی، او د دوی د ژوندانه اسباب يې ور پيدا کړي دي، او پخپل کامل قدرت سره د دوی ساتونکی او اداره کوونکی دی.

په خلاف د دې په عيسی عليه السلام باندې به د مرګ او فنا وار خامخا راتلونکی وي، او دا يوه ښکاره خبره ده؛ هغه څوک چې خپله هستي او ژوندون نشي ساتلی، نو د نورو مخلوقاتو ژوندون او هستي به په څه ډول سره وساتلی شي؟ هر کله چې هغو نصرانيانو، ځمونږ د پاک رسول صلی الله عليه وسلم دا وينا واورېده، نو ګردو سره وويل: بېشکه رښتيا ده، ښايي چې دوی به دا غنيمت ګڼلی وي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له خپله اعتقاده سره سم د «عيسی يأتي عليه الفناء» سوال کوي، يعنې په عيسی عليه السلام باندې خامخا فنا راتلونکې ده، که يې مونږ ځواب په نفي ورکړو، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ځمونږ د عيسايانو له عقيدې سره سم چې «ډېره موده کيږي، چې عيسی عليه السلام مړی شوی دی» مونږ په صريح ډول سره لا زيات ملزم، مفحم، او ساکتولی شي، نو ځکه يې مصلحت ونه ليد چې په لفظي مناقشه کې خپل ځانونه وغورځوي.

او ممکن دی چې دا نصرانیان له هغو فرقو څخې وي، چې له اسلامي عقیدې سره سم د مسیح علیه السلام له قتل او صلب څخې انکار کوي، او د جسماني رفعې قائلان وي، لکه چې «حافظ ابن تیمیة» په «الجواب الصحیح» کې او د «الفارق بین المخلوق والخالق» مصنف تصریح کړې ده، چې د شام او د مصر نصرانیان لومړی په عمومي ډول سره په همدې عقیده باندې وو، وروسته له ډېرې (زمانې) «پولوس» نومي د «صلب» د عقیدې اشاعت وکړ، بیا دا خیال له اروپا څخه مصر، شام او نورو ځایو ته ورسېد، په هر حال د نبي صلی الله علیه وسلم له لوري د «ان عیسی أتی علیه الفناء» په ځای «یأتي علیه الفناء» فرمایل، په داسې حال کې چې په لومړنۍ جملې سره د مسیح د ألوهیت تردید په ښه ډول سره کیږي، او په هغه موقع کې ښه ښکاره او مسکت جواب کېده، دا خبره دې ښکاره وي، چې ځمونږ پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم د الزام په وخت کې هم دا لازمه ونه ګڼله چې په مسیح علیه السلام باندې پخوا له مړ کېدو د مړ ک اطلاق وکړي.

نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ

نازل کړی (ټوټه ټوټه لېږلی) دی په تا باندې کتاب (قرآن) په حقه (په رښتینو اخبارونو او واضحو دلائلو).

تفسیر: یعنې قرآن کریم چې عین حکمت، او له مصالحو سره موافق دی، په نهایت ښه وخت کې سره له رښتیا او انصاف راښکته شوی دی.

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنزَلَ التَّوْرٰىةَ وَالْإِنجِيلَ ۝٣ مِن قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ

حال دا چې تصدیق کوونکی دی د هغو (کتابونو) چې پخوا له ده نه دي، او نازل کړی (یو ځلې لېږلی) دی تورات او انجیل پخوا (له دې قرآنه) لپاره د هدایت د خلقو.

تفسیر: یعنې قرآن عظیم الشأن د پخوانیو أسماني کتابونو تصدیق کوونکی دی، او هغو پخوانیو کتابونو تورات، انجیل او نورو هم لا له پخوا څخه د پاک قرآن د نزول زېرې خلقو ته ورکړی وو، او د ده د راوړونکي په لوري یې خلقو ته لارښوونه کوله، او د خپل وخت له اقتضا سره یې سم خلقو ته احکام او هدایات ورکول.

ګواکې دا یې راښکاره کړه چې د مسیح علیه السلام د «ألوهیت» یا د «ابنیت» عقیده په هیڅ یوه اسماني کتاب کې نه وه، ځکه چې د دین د اصولو په اعتبار ګرد اسماني کتابونه یو له بل سره متفق او متحد دي، او د مشرکانو د عقائدو تعلیمات په هغوی کې نشته.

وَأَنزَلَ الْفُرْقَانَ ۗ

او نازل کړی یې دی فرقان «یعنې هسې کتابونه چې د حق او باطل بېلوونکي دي».

تفسیر: یعنې د هرې زمانې سره یې سم داسې شیان را نازل کړل، چې د حق او باطل، حلال او حرامو، دروغو او رښتیا په منځ کې فیصله کوونکي دي، په دې کې قرآن کریم، سماوي کتابونه، او د انبیاوو علیهم السلام معجزات ګرد سره داخل دي، او په دې لوري هم اشاره وشوه چې په هغو مسایلو کې چې یهودان او نصرانیان له پخوا راهیسې جګړې کوي، د دې اختلافاتو فیصله هم د همدې پاک قرآن په وسیله کیږي.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿٤﴾

بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي په آياتونو د الله (چې قرآن او نور حقاني کتابونه دي) شته دوی لره عذاب سخت، او الله ډېر غالب (قوي د احکامو په انفاذ) څښتن (خاوند) د انتقام (او د سخت عذاب) دی.

تفسير: يعنې داسې مجرمان؛ نه بې سزا پاتې کيږي، او نه دوی د ده له زبردست اقتدار څخه ځان ژغورلی (ساتلی) او نه ترې تښتېدلی شي، په دې کې هم د مسيح عليه السلام د الوهيت د ابطال په لوري يوه لطيفه اشاره وشوه، ولې هر کله چې پوره اقتدار او اختيار الله تعالی لره ثابت شو، نو ښکاره ده چې هغه په مسيح عليه السلام کې نه موندل کيږي، بلکه مسيح عليه السلام به د نصرانيانو د عقيدې په اساس څرنګه کولی شي چې نورو ته سزا ورکړي، هر کله چې پخپله ده سره له زياتې تضرع او الحاح د ظالمانو له مُنګلو ځنې خپل ځان ونه شو ژغورلی (ساتلی)، نو بيا دې پخپله الله ! يا د الله ځوی ! څرنګه کېدی شي؟ ځوی هغه څوک کيدي شي، چې د پلار له نوعې څخه وي، نو ځکه ښايي چې د الله جل جلاله ځوی خامخا لکه الله جل جلاله غوندې وي، يوه عاجز مخلوق ته د مطلق قادر ځوی ويل؛ په حقيقت کې پر الله تعالی او عيسی عليه السلام دواړو باندې سخت عيب لګول دي، العياذ بالله.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَخْفَىٰ عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ ﴿٥﴾

بېشکه الله؛ پټ نه دی په ده باندې هيڅ شی په ځمکه او په اسمان کې (د مخلوقاتو له ټولو احوالو).

تفسير: يعنې همغسې چې د هغه اختيار او اقتدار کامل دی، علم يې هم محيط دی، همدې سره تنبيه ورکړه شوه چې مسيح عليه السلام هم دومره پوهيده چې الله تعالی ورښوولي وو، لکه چې ځمونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ځواب کې هم د نجران نصرانيانو اقرار وکړ، او نن د مروّجو انجيلو له مخې هم ثابته ده.

هُوَ الَّذِي يُصَوِّرُكُمْ فِي الْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَاءُ ۚ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٦﴾

الله هغه (ذات) دی چې جوړوي صورتونه ستاسې په رحمو (د مينډو) کې، په هغه ډول چې اراده وکړي (د جوړولو يې)، نشته بل هيڅ لايق د عبادت مګر هم دې دی، ډېر غالب (قوي د احکامو په انفاذ) ښه تدبير والا (چې هر کار په حکمت او مصلحت سره کوي).

تفسير: يعنې الله تعالی له خپل علم، حکمت، کامل قدرت او کمال سره سم هر څنګه چې يې اراده وکړه، همغسې يې د مور په نس کې ستاسې صورت جوړ کړ، او جوړوي يې، نارينه يا ښځه، ښايسته يا بدرنګه، او څرنګه چې يې اراده وه، پيدا کوي يې له يوه ځانګې اوبو ځنې، په څو ډولو تحولاتو يې د بنيادم بڼه (شکل) راباسي، او هغه ته پوهه او عقل ورکوي، هغه ذات چې قدرت او صنعت يې داسې وي؛ نو د هغه په علم کې به څه نقصان وي؟ يا هر هغه انسان چې ده پخپله د خپلې مور د کېډې په څو تيارو کې هستوګنه کړې وي، او د نورو وړوکيو غوندې خوري، او څښي، او له وړاندې او وروسته ځنې اودس ماتي ته کښيني، نو داسې يو شخص ته به د پاک الله شريک يا ځوی يا لمسی ويل څرنګه وي؟ ﴿كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ ۚ إِنْ يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبًا﴾ عيسايانو به داسې پوښتنې کولې: «هر کله چې مسيح عليه السلام په ښکاره ډول پلار نه لري، نو پرته له الله تعالی به يې څوک پلار وي؟» نو په ﴿يُصَوِّرُكُمْ فِي الْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَاءُ﴾ کې ددې خبرې ځواب هم وشو، يعنې الله تعالی قدرت لري چې په رحم کې، چې په هر ډول سره يې اراده وي، د انسان شکل تياروي، عام له دې نه چې د مور او پلار له يو ځای کېدلو څخه وي، يا که يواځې د مور ځنې، نو ځکه يې

وروسته له دې نه وفرمايل: ﴿هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾ يعنې الله تعالى هسې لوى زورور ذات دى، چې د هغه قدرت هيڅ څوک نشي محدودولې، او د داسې يوه حكمت څښتن (خاوند) دى، چې هر چېرې هر شى مناسب وګڼي، هغه كوي، «بې بي حواء» يې بې موره، او مسيح عليه السلام يې بې پلاره، او آدم عليه السلام يې بې له موره او پلاره پيدا كړل، د الله تعالى په حكمتونو باندې څوک احاطه كولى شي؟

هُوَ الَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَٰبَ مِنْهُ ءَايَٰتٌ مُّحْكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَٰبِ وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٌ ۖ فَأَمَّا الَّذِينَ فِى قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنْهُ ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَآءَ تَأْوِيلِهِۦ ۗ

الله هغه (ذات) دى چې نازل كړى (لېږلى) يې دى پر تا باندې كتاب (قرآن)، چې ځينې له ده نه آيات محكمات دي (چې معاني يې ښكاره دي)، دا (محكم آيات) اصل د كتاب دي (چې د شرعيه وو احكامومبنى دي) او نور (ځينې آيات) متشابهات دي (چې معنى يې معلومه او معينه نه ده)، نو هر چې هغه كسان دي چې په زړونو د دوى كې كوږوالى دى؛ پس پيروي كوي دوى د هغو (كلماتو) چې متشابه وي له دې (قرآنه)، لپاره د طلب د فتنې (او ګمراهي) او لپاره د طلب د معنى د هغو.

تفسير: يعنې هغه كسان چې د هغوى په زړونو كې له حق څخه باطل خوا ته ميلان دى، لكه بدعتيان او زنديقان، نو هغوى په قرآن كريم كې په متشابه ځايونو پسې ګرځي، په كوم كې چې دوى خپل هغه خطا احتمال ويني؛ چې د دوى د شبهو او د خطا عقيدې لپاره دليل شي، لكه «كلمة الله» د عيسى عليه السلام په هكله، او همدارنګه «روح منه» د هغه په هكله، او حروف مقطعات د ځينو علماوو په نظر، او يا هم د الله تعالى د ذات او د صفاتو د كيفيت پيژندل، چې ددغه كيفيت علم د الله تعالى څخه پرته بل چا ته نشته، ځكه د دوى اصلي هدف ګمراهي او د فتنې لټول دي.

او هر چې د الله تعالى صفات دي، لكه «يد الله» يعنې د الله تعالى لاس، «وجه الله» يعنې د الله تعالى مخ، د الله تعالى استواء يعنې په عرش بلكه په ټولو مخلوقاتو اوچتوالى او پورته والى، په قيامت كې د قضاء ميدان ته دالله تعالى راتلل، او د خلكو تر منځ فيصلې كول، دا او داسې نور هغه صفتونه دي چې الله تعالى په خپل كتاب قرآن شريف او يا هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم په صحيحو احاديثو كې د الله تعالى لپاره ياد كړي وي نو مونږ ايمان لرو چې هغه دالله تعالى صفتونه دي، معنى يې ښكاره ده، هيڅ نوع اشكال نه لري، چې «يد الله» يعنې د الله تعالى لاس، او «وجه الله» يعنې د الله تعالى مخ، او داسې نور، خو څرنګه چې د الله تعالى له شان سره لايق او مناسب وي، ځكه حتى د مخلوقاتو د لاسونو، مخونو، سترګو، قوتونو، او نورو صفاتو تر منځ سره توپير شته، او سره يو شان نه دي، نو الله تعالى چې د ټولو مخلوقاتو خالق او پيدا كوونكى دى، په طريق اولى سره په ذات او صفاتو كې د مخلوق د ذات او صفاتو څخه جلا او له هغوى څخه توپير لري، نو د الله تعالى سره په ذات او صفاتو كې هيڅ شى يو شان نه دي، نو مونږ په كې نه تمثيل كوو، نه تحريف، نه تعطيل، او نه تأويل.

تمثيل دېته وايي چې د الله تعالى سره په ذات او يا په صفاتو كې بل څوک يو شان وګڼل شي.

تحريف دېته وايي چې د الله تعالى د صفاتو لفظ يا معنى له خپل اصل حقيقت څخه واړول شي.

تعطيل: دېته وايي چې په قرآنكريم او صحيحو أحاديثو كې د الله تعالى لپاره ثابت شوي نومونه يا صفتونه نفي او له هغه څخه انكار وشي.

تكييف: دېته وايي چې د الله تعالى د ذات او يا دصفاتو كيفيت بيان كړى شي، او دا ځكه چې د الله تعالى ذات مخلوقاتو نه دى ليدلى، او نه د هغه په شان بل څوک شته؛ چې قياس يې وربانديې وشي، او نه هم الله او رسول صلى الله عليه وسلم دغه كيفيت بيان كړى دى، چې مونږ پرې اعتماد وكړو.

تأويل: دېته وايي چې د الله تعالى د صفاتو نصوص له خپلې صحيح معنى څخه ديو نوع شبهې له کبله بلې بدلې معنا ته واړول شي.

وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ

حال دا چې نه پوهيږي په (حقيقي معنى او) مطلب د هغه مګر الله «چې دغه متشابهات هم لکه نور ټول شيان ور معلوم وي).

تفسير: يعنې ددې متشابهاتو حقيقي کنهه او کيفيت بل هيڅ چا ته معلوم نه دى، مګر يواځې الله جل جلاله ته دا هر څه ښکاره دي، ځکه چې دهغه لفظ مراد چې ظاهر الدلالت نه وي، هغه پرته له متکلمه بل هيچا ته معلوم نه وي.

وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِّنْ عِندِ رَبِّنَا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ ۝٧

او هغه کسان چې پاخه دي په علم کې وايي دوى چې: ايمان راوړى دى مونږ په دې (متشابه، په مثل د ايمان ځمونږ په محکم باندې چې دواړه حق دي، ځکه) دا ټول (محکم او متشابه) له طرفه د رب ځمونږ دي، او پند نه اخلي (په دې) مګر (خو پند اخلي) خاوندان د عقلونو (خالصو).

تفسير: هر کله چې د نجران نصرانيان له ګردو دلائلو ځنې عاجز شول، نو د معارضې په ډول يې وويل: «آخر تاسې خو مسيح «کلمة الله» او «روح الله» ګڼئ، نو ځمونږ د مدعى داثبات لپاره همدومره الفاظ کافي دي»، دلته د هغې تحقيقي ځواب د يو عام اصل، قاعدى او ضابطې په صورت ورکړ شوى دى، چې د هغه له پوهېدلو ځنې وروسته د زړګونو منازعاتو او مناقشاتو خاتمه کېدى شي، داسې وپوهيږئ چې نه يواځې په عظيم الشأن قرآن کې بلکه په ټولو اسماني کتابونو کې دوه ډوله آيتونه شته:

(۱): هغه آيتونه دي چې مراد يې ښکاره او تاکلى (مقرر) وي، يعنې د عبادت، لغت، ترکيب، او نورو په لحاظ د هغه په الفاظو کې څه اجمال او ابهام نه وي، او نه يې عبارت د څو معناګانو احتمال لري، او نه يې هغه مدلول چې ورڅخه پوهېدلى شوى دى له عامو مسلّمو قواعدو ځنې چپ وي، نو داسې آيتونو ته (محکمات) وايي، او په حقيقت کې د کتاب د ګردو تعليماتو او احکامو ښخ او د اصولو اصل همدا محکمات آيتونه دي.

(۲) د «متشابهاتو» آيتونه دي، چې د هغو مراد ښکاره نه دى، او بايد چې د متشابهاتو آيتونه دې محکماتو آيتونو ته راجع کړل شي !، او ودې کتل شي چې هغه معناګاني چې لـه محکماتـو ځنې مخالفې وي، د هغو دې بيخې نفي وکړه شي، او د متکلم مقصد همغه شى واخيستل شي چې د محکماتو له آيتونو ځنې مخالف نه وي، او که سره له اجتهاده او ډېر کوښښ د متکلم مراد په پوره ډول سره متعين نه کړ شي، نو د هر شي د پوهيدلو دعوى دې پرښوده شي !، او له حده ځنې دى وړاندې تېرى ونه کړل شي !، ځکه چې د علم لږوالى او د استعداد د قصور له امله په ډېرو حقايقو باندې ځمونږ فکر نشي رسېدى، او ځمونږ عقل د هغه له پوهيدلو ځنې قاصر دى، او دا دې هم په همغه فهرست کې شامل کړل شي !، خبردار چې داسې تأويلات او وړاندې وروستوالى دې ونه کړل شي ! چې د دين د مسلّمو اصولو او محکمو آيتونو ځنې مخالف وي.

دقرآن چې څوک له ځانه کړي تأويل *** چې دشرعې پکې نه وي هيڅ دليل

په مرض د ګمراهى سره عليل دى *** په عقبى به يې رب سپک کړي ډېر ذليل

مثلا قرآن حکيم د مسيح عليه السلام په نسبت تصريح فرمايلې ده: ﴿إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ﴾ يا ﴿إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ﴾ الآيه - يا ﴿ذَٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ﴾ يا ﴿مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍ ۖ سُبْحَانَهُ﴾ او ځاى په ځاى

يې د هغه د الوهيت او ابنيت تردید کړی دی، اوس که یو سړی له دې ګردو محکماتو آیاتونو ځنې سترګې پټې کړي، او په ﴿وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلْقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِّنْهُ﴾ او نورو متشابهاتو پسې منډې وهي، او د دغو معنی چې له محکماتو سره سمه وي؛ پرېږدي، او هسې یوه سطحي معنی غوره کوي، چې د کتاب الله له عمومي تصریحاتو او متواترو بیاناتو ځنې منافي وي، نو دا که کاږه تلل او سرزوري نه ده، نو څه ده؟ ځینې سخت زړي خو غواړي چې دا راز مغالطې واچوي، او خلق د ګمراهۍ په کنده کې نسکور کړي، او ځینې متزلزل او سست عقیده کسان له داسې متشابهاتو ځنې له خپلې رایې او غوښتنې سره سم تأویلات کوي، او غواړي چې په ډېر کوښښ او سعي سره څه نا څه مطلب ترې راواخلي، حال دا چې د هغوی صحیح مطلب خو یواځې الله تعالی ته معلوم دی، او همغه پخپل فضل او کرم سره هر چا ته چې هر څومره اراده وکړي همغومره ورښيي، هغه کسان چې مضبوط علم لري، دوی محکمات او متشابهات دواړه حق ګڼي، او یقین لري چې دا دواړه له یوې چینې راوتلي دي، او په دوی کې د تناقض هیڅ امکانات نشته، نو دا مضبوط عالمان هغه متشابهات محکماتو ته راجع کوي، او د هغو له مخې په مطلب یې ځان پوهوي، او هغه برخه چې د دوی د پوهې له دائرې ځنې وتلې وي، د هغې معنی او تأویل الله تعالی ته پرېږدي، او وایي چې: د دې په معنی باندې پاک الله ښه پوهیږي، ځمونږ کار هم دا دی چې ایمان پرې راوړو.

کوم اجمال چې په کلام کې عارضیږي

خپل قائل پرې له هر چا نه ښه پوهیږي.

رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ ۝٨

(وایي دغه راسخون) ای ربه ځمونږه ! مه کړوه ! زړونه ځمونږ وروسته له دې نه چې په سمه صافه لاره دې برابر کړي یو، او وبخښه (عنایت کړه) مونږ ته له نزده خپله رحمت، بېشکه ته همدا ته ډېر بخښونکی یې (د نعمت او رحمت).

تفسیر: یعنې «راسخین في العلم» په خپل ایماني قوت او علمي کمالاتو باندې نه مغرور او نه ډاډه کیږي، بلکه تل له حق سبحانه وتعالی ځنې د لا زیات استقامت او د لا زیات فضل او عنایت غوښتونکي دي، چې ګټلې پانګه (سرمایه) یې له لاسه ضایع نشي، او الله دې نه کړي چې د زړونو له سمبدلو ځنې وروسته بیا دوی کاږه شي، په حدیث شریف کې راغلي دي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپل امت ته د تعلیم په توګه زیاتره داسې دعاوې کولې «یا مقلب القلوب، ثبت قلبي علی دینک»: ای اړونکیه د زړونو ! ثابت وساته زړه زما پر دین خپل !.

رَبَّنَا إِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ ۝٩

ای ربه ځمونږه ! بېشکه ته یو ځای کوونکی د (ټولو) مخلوقاتو یې (په بعث سره په محشر کې) لپاره د (حساب د هغې) ورځې، چې نشته هیڅ شک شبهه په (راتلو د) د هغې کې، بېشکه چې الله نه کوي مخالفت له وعدې «خپلې» نه.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُم مِّنَ اللَّهِ شَيْئًا وَأُولَٰئِكَ هُمْ وَقُودُ النَّارِ ۝١٠

بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي له سره به دفعه نه کړي له دوی ځنې مالونه د دوی او نه اولاد د دوی؛ له (عذابه د) الله نه هیڅ شی (نه لرې، نه ډېر، نه په دنیا نه په عقبې)، او دا کسان همدوی دي خس د اور (د دوزخ).

تفسير: د قيامت له ذکر سره يې د کافرانو انجام هم راوښود، چې هيڅ شی دوی په دنيا او آخرت کې د الله تعالی له عذاب څخه نشي ژغورلی (ساتلی)، لکه چې د دې سورت په اوله کې وليکل شو، په دې آيتونو کې اصلي خطاب د نجران جرګې ته دی، چې ښايي هغې ته د نصرانيانو د مذهب او د نصرانيانو د قوم لوی نماينده وويل شي.

كَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۱۱﴾

(حال د دوی داسې دی) لکه حال (عادت) د تابعانو د فرعون او (لکه حال عادت) د هغو کسانو چې پخوا له دوی څخه وو، (لکه عاديان او ثموديان) چې نسبت د دروغو به يې کاوه آيتونو څمونږ ته، پس ونيول دوی لره الله (په عذاب مهلک سره) په سبب د ګناهونو د دوی، او الله سخت دی عذاب (د ده، يعنې پر کافرانو يې عذاب سخت او عقاب يې تل دی).

تفسير: يعنې د هيڅا پلمې (منصوبې) او بهانې نشي چلېدی، او لکه چې هغوی نيولي شوي دي، تاسې هم د الله تعالی له نيولو څخه نشئ ژغورلی، او نيولي کيږئ.

قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَتُغْلَبُوْنَ وَتُحْشَرُوْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۲﴾

ووايه (ای محمده !) هغو کسانو ته چې کافران شوي دي: ژر به مغلوب کړی شئ تاسې (په وژلو يا شړلو سره په دنيا کې)، او جمع به کړی شئ تاسې (شړلی به شئ په عقبی کې) طرف د دوزخ ته، او بد ځای د هستوګنې دی (دغه دوزخ).

تفسير: يعنې هغه وخت راتلونکی دی، چې ژر به تاسې ګرد يهودان، نصرانيان او مشرکين د الله تعالی د لښکرو په مخ کې مغلوب شئ، او خپله وسله به ور واچوئ، دا خو د دنيا سپکتيا ده، د آخرت هغه خورا سور ځای چې تاسې ته تيار شوی دی؛ هغه خو بېل دی.

په څينو روايتونو کې دي، چې د بدر له بري څخه وروسته رسول اکرم صلی الله عليه وسلم يهودانو ته وفرمايل: «تاسې هم حق دين ومنئ، که نه ستاسې حال به هم همغسې شي لکه چې د قريشو شو !» دوی وويل: «ای محمده ! تاسې په دې باندې مه تېروځئ چې د قريشو په څو بې تجربو سړيو باندې مو بری موندلی دی، که ستاسې مقابله له مونږ سره وشي نو هلته به وپوهيږئ، چې مونږ څرنګه جنګياليان يو؟ نو په دې مناسبت دا آيتونه نازل شول.

څينې وايي چې: د بدر د بري ليدلو په اثر څينې يهودان د تصديق لوري ته متمايل شول، خو څينو نورو دوی ته وويل: ګورئ تلوار مه کوئ ! او صبر وکړئ ! چې وروسته له دې نه څه پېښيږي؟، په دوهم کال کې د احد د عارضي ماتې له ليدلو څخې د دوی زړونه لا پسې سخت شول، او حوصله يې زياته شوه، تر دې چې پخپل ټرون باندې هم ونه درېدل، او د مسلمانانو د جنګ لپاره يې تياری وکړ، کعب بن أشرف له شپېتو تنو سپرو (سورو) سره مکې معظمې ته لاړ، او د ابو سفيان او د قريشو د نورو غټانو سره ملګری شول، او ويې ويل: مونږ له تاسې سره متحد يو، او ښايي چې ګرد سره يو محاذ قايم کړو، او له محمد صلی الله عليه وسلم سره وجنګيږو !، نو په دې باره کې دا آيت نازل شو، والله أعلم.

په هر حال ! له لږو ورځو څخه وروسته الله تعالی دا راوښووله، چې په «جزيرة العرب» کې به د مشرکانو نوم پاتې نشي، بني قريظه عهد ماتوونکي يهودان په خپله سزا ورسېدل، بني نضير له مدينې منورې څخې وشړل شول، د نجران نصاری داسې خوار او سپک شول، چې کلنی «جزيه» ورکول يې ومنل، او نږدې تر زرو کلونو پورې د دنيا ډېرو مغرورو او خورا (ډېر) متکبرو قومونو د مسلمانانو په تهذيب، تعليم، او ترقي اعتراف کاوه، فالحمد لله علی ذلک.

قَدْ كَانَ لَكُمْ آيَةٌ فِي فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا ۖ فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأُخْرَىٰ كَافِرَةٌ يَرَوْنَهُم مِّثْلَيْهِمْ رَأْيَ الْعَيْنِ ۚ وَاللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهِ مَن يَشَاءُ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّأُولِي الْأَبْصَارِ ﴿١٣﴾

په تحقيق سره دی تاسې ته لوی عبرت (نمونه ای ناظرينو !) په هغو دوو فرقو کې چې سره مخامخ شولې (په «بدر» کې لپاره د جنګ)، يوه فرقه داسې وه چې جنګ يې کاوه په لاره د الله کې، او بله فرقه داسې وه چې کافره وه، ليدل به دوی هغوی لره دوه چنده د هغوی، په ليدلو د سترګو سره، او الله قوت ورکوي په نصرت (مرستې، مدد) خپل سره هر چا ته چې اراده وکړي (د نصرت)، بېشکه په دې (زيات او کم ليدلو) کې خامخا عبرت (پند) دی لپاره د خاوندانو د بصيرت.

تفسير: د بدر په غزا کې د کافرانو شمېر نږدې زر تنه وو، چې له دوی سره اوه سوه اوښان، سل آسونه هم وو، په بل لوري کې مجاهدين له درې سوو ځنې لږ زيات وو، چې له هغوی سره اويا اوښان، دوه آسونه، شپږ زغرې، اته توري يا چړې وې، او يوه نندارې (تماشه) دا وه، چې هر يوه لښکر ته به بل مخامخ لښکر دوه چنده په نظر ورته، چې د هغه نتيجه داسې شوه؛ چې کافرانو په زړونو د مسلمانانو د دې ډېروالي له تصوره وېره ور ولوېده، او مسلمانانو ته د کافرانو له دې دوه چنده شمېر ځنې په پاک الله باندې لا ډاډينه (تسلي) او اعتماد پيدا شو، او د ده په لوري متوجه، او په پوره توکل، صبر، او استقلال سره يې د الله تعالى په دې وعدې باندې چې ﴿إِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ﴾ ده، اعتقاد او اعتماد وو، او د بري او نصر هيلمند (اميد کوونکي) وو، که پوره شمېر دوی ته وربښکاره کېدی، چې درې چنده وو، نو ممکن وو چې وېره به دوی ته پېښېده، او دغو دواړو ډلو ته دوه چنده ښکاره بدل په ځينو احوالو کې وو، که نه په ځينو احوالو کې هر يوه لښکر له بل مخامخ لښکر لږ په نظر ورته، لکه چې د «الأنفال» په سورت کې به راشي.

په هر حال د هغې يوې لږې، او بې سرو سامان ډلې، د داسې يوې مضبوطې او پياوړې (محکمې) ډلې په مقابل کې، دهغې پخوانۍ وينا سره سم چې په مکې معظمې کې شوې وه، دا رنګ بريالي (کامياب) کېدل د بصيرت او عقل خاوندانو ته يوه لويه عبرتناکه واقعه، او ښه نمونه ده.

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ

ښايسته کړی شوي دي خلقو ته محبت (مينه) د مرغوبو خوندورو شيانو چې ښځې دي.

تفسير: يعنې کله چې سړی له هغو سره علاقمند (تعلق لرونکی)، او له الله تعالى څخه غافل شي، نو بناء پر دې په حديث کې راغلي دي: «ما تركت بعدي فتنة أضر على الرجال من النساء»: «ما نه ده پرېښې وروسته له خپله ځانه يوه فتنه چې زياته ضرر رسوونکې وي نارينه وو ته له ښځو څخه».

هو ! که له ښځو ځنې مقصود عفت او د اولادو کثرت وي، نو مذموم نه - بلکه مطلوب او مندوب دي، لکه چې رسول الله مبارک صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «د دنيا ډېر ښه متاع هغه ښه ښځه ده، چې که هغې ته وګورې؛ خوښ شې، که حکم ورته وکړې؛ حکم دې ومني، که ور ځنې غايب شې؛ نو مال دې او خپل عصمت او عفت په ښه شان سره ساتي».

همداسې هومره شيان چې وروسته له دې نه د دنيا د متاع په سلسله کې ياد شوي دي، د هغو ګردو ښه والی او بدوالی دنيت او عمل په تفاوت سره متفاوت کيږي، خو څرنګه چې په دنيا کې هسې افراد ډېر دي، چې د عيش او عشرت په سازونو او سامانونو کې ډوب پراته دي، او الله تعالى او خپل انجام هيروي، نو ځکه د «زين للناس» کلام په ظاهر کې عام راوړل شوی دی.

وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ

او ځامن دي او ډېر مالونه چې راټول کړی شوي دي له سرو زرو نه، او سپينو زرو نه، او آسونو نه؛ چې نښان داره (يا ښايسته) کړی شوي وي.

تفسير: يعنې هغه آسونه چې لمبر يا نښان پرې ايښود شوی وي، يا هغه ښايسته او ښکلي اسونه چې په لاسونو، پښو، او تندې باندې يې نښې وي، يا هغه آسونه چې په څړ ځای (چراګاه) ورشو کې د څړ لپاره خوشې پرېښودل شوي دي.

وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ۗ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴿۱۴﴾

او نور چارپايان (لکه اوښ، غويي، پسه) او کښت (يا مزرعه) دي، دغه (۶ واړه شهوتونه) فايده اخيستل د ژوندون د دنيا دي، او (خاص) دالله په نزد دی ښه ځای د ورتللو (چې جنت دی).

تفسير: يعنې ابدي فلاح له دې شيانو ځنې په لاس نه راځي، يواځې د دنيا د څو ورځو موقتي ګټه ترې اخيستل کيږي، که ډک له بري او کاميابی مستقل او ښه ځای غواړې؛ نو هغه د الله تعالی سره موندل کيږي، نو تل د الله جل جلاله د خوښې او د قرب د حصول په فکر کې ووسئ ! په وروستني آيت کې دا رابنيي چې هغه ښه ځای کوم دی، او هغه کومو خلقو ته ور رسيږي؟

قُلْ اَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِّنْ ذٰلِكُمْ ۭ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَاَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ

ووايه (ای محمده ! دوی ته) آيا خبر درکړم تاسې ته په بهتر (څيز) له دغو (۶ واړو دنيوي خوندونو) نه؟، (شته) لپاره د هغو کسانو چې متقيان دي (د الله احکام تعميلوي) په نزد د رب د دوی؛ جنتونه چې بهيږي به لاندې له (مانيو او ونو د) هغوی ويالې، چې تل به وي (دوی) په دې (جنتونو) کې، او (دوی لپاره) ښځې به وي ښې پاکې.

تفسير: يعنې له هر راز صوري او معنوي نجاستونو او ګندګيو څخه به «چې دنيوي ښځې طبعا يا أخلاقا په هغو ککړې او ناولې کيږي» پاکې او صافې وي.

وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ۭ

او رضامندي (لويه به وي له کريمه ربه دوی ته) له جانبه د الله.

تفسير: آيا له دغه ځنې به بل کوم لوی نعمت او کوم ښه احسان او انعام وي؟ نه ! په حقيقت کې جنت د دې لپاره مطلوب او مرغوب دی، چې د رضا محل، او د الله د ليدلو ځای دی.

وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۱۵﴾

او الله ښه ليدونکی دی دبندګانو (نو هر چا ته به د خپل عمل جزا ورکړي).

تفسير: په حديث کې راغلي دي چې رسول الله مبارک فرمايي: «کله چې الله تعالی ته کوم بنده محبوب وي، نو دې له دنيا ځنې داسې لرې ساتي، او ترې پرهېزوي يې، لکه چې تاسې خپل کوم ناروغه له مضرو اوبو او ناوړه (ګنده) خوړو ځنې پرهېزوئ».

ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٦﴾

هغه (متقيان) چې وايي: «ای ربه ځمونږه ! بېشکه مونږ ایمان راوړی دی (په ټولو مؤمن به شیانو)، نو مغفرت وکړه مونږ ته دګناهونو ځمونږ، او وساته مونږ له عذابه د اور (د دوزخ)».

تفسیر: معلومه شوه چې د ګناه د مغفرت لپاره ایمان راوړل شرط دي.

ٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلْقَٰنِتِينَ وَٱلْمُنفِقِينَ وَٱلْمُسْتَغْفِرِينَ بِٱلْأَسْحَارِ ﴿١٧﴾

(هسې متقیان چې) صبر کوونکي دي، (په طاعت او مصیبت او له معصیت ځخه) او صادقان دي (رښتینې دي په ایمان) او په ځای راوړنکي دي د حکم (د الله) او خیرات ورکوونکي دي په رضا د (الله) او مغفرت غوښتونکي دي په آخر د شپو کې.

تفسیر: یعنې د الله تعالی په لاره کې لوی لوی ربړونه (مصیبتونه) او تکلیفونه په ځان اخلي، او د الله تعالی د احکامو په منلو کې ټینګ ولاړ وي، او له ګناه او معصیت ځنې تل ځان ژغوري (ساتي)، په ژبه، نیت، زړه، او په معامله کې بیخی رښتینی وي، په پوره تسلیم او انقیاد سره د الله تعالی ګرد احکام په ځای کوي، او د الله تعالی له خوا ورکړی شوی مال د هغه په ښوونې سره لازمو ځایو کې صرفوي، او د شپې په آخره برخه کې (چې د طمأنینت او اجابت وخت دی، او په هغه وخت کې له خوبه پاڅېدل کوم آسان کار نه دی) له خپل رب ځنې د خپلو ګناهونو او تقصیراتو مغفرت غواړي، لکه چې د ۲۶ جزء د (الذاریات) د لومړۍ رکوع په ۱۷ آیت کې راغلي دي: ﴿كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ ٱلَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ﴾ یعنې د شپې زیاته برخه په عبادت کې تېروي، او د سبا ختو نه مخکې وخت کې استغفار وایي چې؛ ای الله ! ځمونږ هغه تقصیرات او نیمګړتیاوې چې په عبادت کې رانه شوي دي، پخپل فضل او کرم سره یې وبښه !.

شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ

شاهدي ادا کړې ده الله (د وحدانیت) په دې شان چې نشته هیڅ مستحق د عبادت مګر هم دې دی.

تفسیر: په ابتداء کې د نجران له نصرانیانو سره مخاطبه وه، او په ډېر لطیف صورت سره یې د مسیح علیه السلام د ألوهیت د عقیدې ابطال او د خالص توحید اعلان او د ایمان راوړلو ترغیب یې ورکړ، په منځ کې یې د هغو موانعو ذکر وفرمایه چې د حق له وضاحت سره انسان د ایمان له شرفه محروم او بې برخې کوي، چې مال، اولاد، او د عیش او عشرت نور ساز او سامان دی.

په دې آیتونو کې د مؤمنانو د صفاتو له بیانولو ځخه وروسته بیا د توحید او نورو اصلي مضمونونو په لوري رجوع وشوه، یعنې د خالص توحید په منلو کې څه تردد او اندېښنه کېدی نه شي ځکه چې په خپله الله تعالی په خپلو کتابونو کې پرله پسې د همدې مضمون په حقانیت باندې شاهدي لولي، او د هغه د فعلي کتاب (د کائناتو پانې) هر یوه پانه، بلکه هره یوه نقطه شاهدي ورکوي، چې له رب العالمین جل وعلا شأنه ځخه پرته بل هیڅوک د عبادت وړ (لایق) نه شي کېدی.

«وفي كل شيء له آية ***** تدل على أنه واحد»

«په هر شي کې دی دلیل، چې الله دی بې مثیل».

﴿سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ﴾ (۲۵م جزء، د حم السجده ۶ مه رکوع، ۵۳م آیت).

وَالْمَلٰٓئِكَةُ

او (شاهدي اداء کړي ده) پرښتو (د وحدانيت په اقرار سره).

تفسير: ښکاره ده چې د پرښتو شاهدي د الله جل جلاله له شاهدي ځنې هيڅکله مخالفه کېدی نشي، پرښته خو د هغه مخلوق نوم دی، چې د صدق او د حق له لارې ځنې غاړه نشي غړولی، لکه چې د پرښتو ټولې تسبيح او ګرد تمجيد په عمومي ډول د باري تعالی په توحيد او تفريد باندې مشتمل دي.

وَاُولُوا الْعِلْمِ

او (شاهدي اداء کړي ده) خاوندانو د علم (له انبياوو او مؤمنانو د وحدانيت په اعتقاد سره).

تفسير: علم والا په هره زمانه کې د توحيد شهادت ورکوي، او نن ورځ په عمومي ډول سره دتوحيد په خلاف يو لفظ ويل، له مطلق جهل سره مرادف ګڼل کيږي، مشرکان هم په خپلو زړونو کې د توحيد اصول مني، او علمي اصول هم د شرک د عقائدو مؤيد نه دي، (له دې نه د علم فضيلت، او د پوهې په لوري تشويق او رغبت ثابت شو، نو ښايي چې هر مؤمن د علم او معرفت په تحصيل کې بېړه (تلوار) او کوښښ وکړي !).

قَآئِمًۢا بِالْقِسْطِ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۸﴾

په دې حال کې چې ثابت دی (الله) په عدل سره، نشته هيڅ مستحق د عبادت مګر همدی دی، ښه غالب (قوي په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: د عدل او انصاف کولو لپاره دوه خبرې ضروري دي.

(۱) دا چې منصف داسې زورور غالب وي، چې هيڅوک د هغه له فيصلې نه سر ونشي غړولی.

(۲) حکيم وي، چې په حکمت او پوهې سره د هر شي تدقيق او څېړنه (تحقيق) له هرې خوا ځنې وکړلی شي، او په پوره دقت او قوت سره وکړلی شي، چې خپله فيصله صادره کړي، او هيڅ يو نا مناسب او بې موقع حکم ونه کړي، څرنګه چې حق سبحانه وتعالی عزيز او حکيم دی، نو ځکه د هغه په مطلق عدالت هيڅ يوه شبهه نشي واردېدې.

غالبا په دې لفظ د «قائما بالقسط» سره د نصرانيانو د کفارې مسئله هم تردیده شوه، په رښتيا سره دا څه عدل او انصاف دی، چې د نړۍ جرمونه يواځې پر يوه سړي باندې بار کړل شي، او همغه يو مجرم چې سزا ومومي، نور به ټول مجرمان د تل لپاره پاک او بري شي، حال دا چې د عادل او حکيم الله تعالی لوی دربار له هسې ګستاخي او سپين سترګي ځنې خورا (ډېر) لوړ دی.

اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ ۗ

بېشکه (غوره او مقبول) دين په نزد د الله دين د اسلام (يعنې محمدي شريعت) دی.

تفسير: د «اسلام» اصلي معنی ځان سپارل او غاړه کيښودل دي، اسلام ته هم له همدې امله «اسلام» ويلی شي، چې هر مسلمان بيخي خپل ځان الله تعالی ته سپاري، او د ده ګردو احکامو ته غاړه ږدي، او په وحدانيت باندې اعتقاد او اقرار کوي.

ګواکې «اسلام» د انقیاد او تسلیم او د مسلمانی د احکامو د منلو بل نوم دی، هسې خو له شروع ځنې د آخر الزمان رسول الله صلی الله علیه وسلم تر زمانې پورې ټولو پیغمبرانو علیهم السلام همدا د «اسلام» دین راوړی، او په خپلو زمانو کې یې خپلو قومونو ته له وخت سره مناسب احکام وررسولي، او د طاعت او عبادت او د حکم منلو او د (الله واحد، احد، صمد) د خالص پېژندلو او عبادت کولو په جانب یې خلق بللي، خو په دې سلسله کې ځمونږ خاتم الأنبیاء محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ګرد عالم ته داسې یو اکمل او ډېر جامع او عالم شموله (ټول جهان ته شامل) او نه نسخ کېدونکی هدایت راوړی دی، چې دا مبارک دین نه یواځې ګردو سابقه وو او حقه وو شرائعو لره شامل دی، بلکه د نورو زیاتو ښېګڼو او خصوصیاتو لرونکی هم دی، چې دا لارښوونې پخپل دې خصوصي رنګ سره د «اسلام» په نامه موسومې او ملقبې شوي دي.

په هر حال په دې آیت کې د نجران دنصرانیانو په مخ کې عموما اعلان کړی شوی دی، چې دین او مذهب یواځې د همغه شي نوم کېدی شي، چې بنده په هغه سره د زړه له اخلاصه خپل ځان او مال پاک الله ته ور وسپاري، او په هر وخت کې هر هغه حکم چې د هغه له جانبه وررسیږي؛ هغه بې له وړاندې او وروسته کولو، او څه ویلو ځنې ژر تر ژره ومني، او تعمیل یې کړي، او تل د خپل تسلیم غاړه الله ته کېږدي.

نو هغه څوک چې الله تعالی ته ځامن او لمسي ټاکي، او مسیح او مریمی علیهما السلام دتصویرونو او دصلیب دشکل عبادت کوي او دخنزیر (سوډر) غوښه خوري، انسان ته الله وائی او الله لکه دانسان په شان ګڼي، او دانبیاو او اولیاو وژل ورته آسان کار ښکاري، دحق دین دمحو کولو لپاره کوششونه کوي، او دهغه رسول قصداً او عمداً تکذیب کوي، چې دموسی او عیسی علیهما السلام دبشارتونو سره سم مبعوث شوي او یا هغه ناپوهان چې دتیګو، ونو، ستورو، لمر، او سپوږمی او نورو عبادت کوي او دحلالو او حرامو معیار یواځی خپل نفساني خواهشات ګڼي، آیا له دوی څخه څوک ددی خبري وړ دي چې ځان ته مسلم ووائي او دابراهیمی ملت دپیروی دعوه وکړي؟.

وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ

او اختلاف نه دی کړی هغو کسانو چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب (چې یهودان او نصرانیان دي) مګر وروسته له هغه چې راغی دوی ته علم (په توحید د الله او نبوت د محمد باندې) په سبب دضد، حسد، کینې، چې وه په منځ د دوی کې.

تفسیر: یعنې «اسلام» یو واضح او روښانه دین دی، هغه دلایل چې ثابتوي؛ چې موسی او عیسی علیهما السلام پیغمبران دي، او «تورات» او «انجیل» آسماني کتابونه دي، له هغو ځنې خورا ښه، ټینګ، قوي، او زورور دلائل د محمد صلی الله علیه وسلم په رسالت، او د القرآن العظیم په کلام الله توب باندې شته، بلکه پخپله همغه کتابونه د دوی په حقانیت باندې شاهدي ورکوي، خالص توحید یو صاف او ښکاره مضمون دی، چې د هغه په خلاف د ځوی او دپلار مفکوره یوه داسې چټې (بېکاره) دعوی ده، چې هیڅ علمي اصول د هغه تایید نه کوي، اوس چې کتابیان له اسلام سره مخالف شوي دي، نو د دې رونو حقائقو تکذیب ته یې ملاوې ټرلي دي، او د الله تعالی له حکم منلو ځنې غاړه غړوي، نو د دې مخالفت سبب پرته له ضد، حسد، عناد، او د مال او جاه له حرصه بل شی نشي کېدی.

وَمَنْ يَكْفُرْ بِآيَاتِ اللَّهِ فَإِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿١٩﴾

او هر څوک چې کافر کیږي (انکار کوي) په آیتونو د الله (او احکام او د قدرت او وحدانیت علامې ونه مني) پس ببشکه الله ډېر ژر حساب والا دی (نو یې ژر په سزا رسوي).

تفسير: په دنيا کې هم، او په آخرت کې خو خامخا پوره حساب او کتاب ورسره کوي، بيا به يې هرومرو د عمل په قدر په سزا رسوي.

فَإِنْ حَآجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ اتَّبَعَنِ ۗ وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَٰبَ وَالْأُمِّيِّـۧنَ ءَأَسْلَمْتُمْ ۚ فَإِنْ أَسْلَمُوا۟ فَقَدِ ٱهْتَدَوا۟ ۖ وَّإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَٰغُ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿٢٠﴾

پس که بيا جګړه کوي دا (کافران) له تا سره (له دغو دلائلو وروسته هم) پس ووايه: (ای محمده ! دوی ته چې) ما خالص تابع کړی دی مخ خپل (يعنې ځان خپل احکامو د) الله ته، او هر هغه څوک چې متابعت کوي زما (هغه هم خپل ځان الله ته سپارلی دی)، او ووايه (ای محمده !) هغو کسانو ته چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب (يعنې يهودانو او نصرانيانو ته) او ناپوهانو (مشرکانو د عربو) ته: آيا اسلام راوړی تاسې؟ (يعنې اسلام راوړئ !) پس که اسلام راوړ دوی، پس په تحقيق چې ومومندله دوی سمه صافه لاره، او که وګرځېدل دوی (له اسلامه) پس بېشکه همدا خبره ده چې پر تا تش تبليغ (د هدايت) دی، او الله ښه ليدونکی دی د بندګانو.

تنبيه: د عربو مشرکانو ته يې ځکه اُمّي (ناپوه) وويل، چې له دوی سره د سماوي کتابونو څه پوهه او تعليم نه وو.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَيَقْتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأْمُرُونَ بِٱلْقِسْطِ مِنَ ٱلنَّاسِ ۙ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢١﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٢﴾

بېشکه هغه کسان چې کافران کيږي پر آياتونو (احکامو) د الله باندې، او وژني دوی انبياء په ناحقه سره، او وژني هغه کسان چې حکم کوي هغوی په عدل (او انصاف) سره له خلقو څخه؛ پس زېرې وکړه دوی ته په عذاب دردناک سره. دا همغه کسان دي چې باطل (ضائع) شوي دي (نېک) عملونه د دوی په دنيا کې (له لعنت او مذلت څخه يې پرې نجات ونه موند) او (هم) په آخرت کې (چې له دوزخه پرې خلاص نشول) او نشته دوی ته هيڅ مددګاران (د عذاب په دفعه کې).

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ

آيا نه ګورې ته هغو کسانو ته چې ورکړی شوی وو دوی ته څه برخه له کتابه (تورات) نه.

تفسير: يعنې هغه لږه يا ډېره برخه د «تورات» او «انجيل» او نورو چې له لفظي او معنوي تحريفاتو او اړولو ځنې پاتې ده، يا د کتاب هغه لږه يا ډېره برخه چې د هغې پوهه او فهم د دوی په برخه شوی دی.

يُدْعَوْنَ إِلَىٰ كِتَٰبِ ٱللَّهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ وَهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾

حال دا چې وباله شي دوی طرف د کتاب د الله ته لپاره د دې چې حکم وکړي (دا کتاب) په منځ د دوی کې؛ بيا مخ ګرځوي يو ډله له دوی نه، حال دا چې دوی تل څنګ کوونکي دي (له قبوله د حقه په تغافل سره).

تفسير: يعني كله چې دوی را وبلل شي، چې د هغه لوی قرآن په لوري راشي ! چې ستاسې د منل شويو کتابونو له زيري سره سم راغلی دی، او ستاسې د ټولو جګړو فيصلې په ښه ډول سره کوي، نو د هغوی د پوهانو يو ډله ځان ناکاره (ناخبره) اچوي، او په تغافل سره تري مخ ګرځوي، حال دا چې د لوی قرآن په لوري بلنه په حقيقت کې د «تورات» او «انجيل» په لوري بلنه ده.

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ ۖ وَغَرَّهُمْ فِي دِينِهِمْ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾

دغه (ګرځېدل د دوی) په سبب د دې دي؛ چې بېشکه دوی (يهودان) وايي: له سره به ونه رسيږي مونږ ته اور (د دوزخ) مګر يو څو ورځې شمېرلې شوې (لږې)، او غره کړي (تېر ايستلي) دي دوی په دين خپل کې هغه شي چې وو دوی چې دروغ به يې جوړول (په دين کې).

تفسير: يعني د هغو د تمرد او طغيان او په ګناهونو باندې د زړورتيا علت دا دی چې د سزا څخه وېره نه لري، د دوی خورا (ډېر) لوی دروغ چې له خپل ځانه يې جوړ کړي دي دا دي: «که مونږ ډېره سخته ګناه هم وکړو، نو فقط له شمېرلو ورځو ځنې زياته موده به نه په عذابيږو» لکه چې تفصيل يې اول جزء د «البقرة» سورت په ۸۰ آية ۸ رکوع کې تېر شو.

او همدا راز يې نور دروغ او چټې (بېکاره) خبرې له خپلې ګېډې څخه رايستلي دي، مثلا چې مونږ د الله منلي ځامن يو، يا د انبياوو له اولادې ځنې يو، او الله تعالى له يعقوب عليه السلام سره وعده کړېده، چې د هغه اولادې ته به سزا نه ورکوي، او که سزا يې هم ورکوله، د قسم په ځای کولو لپاره به يو جزئي او مؤقتي عذاب وي.

نصرانيانو خو د کفارې مسئله را ايستلې ده، او د خپلې ګناه او سوال او ځواب خبرې يې بيخي خلاصي کړي دي، «اللهم أعذنا من شرور أنفسنا».

فَكَيْفَ إِذَا جَمَعْنَاهُمْ لِيَوْمٍ لَا رَيْبَ فِيهِ ۖ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٥﴾

نو څه حال به وي هغه وخت کله چې يو ځای کړو مونږ دوی لپاره د (حساب د هغې) ورځې چې نشته هيڅ شک په (راتلو د) هغې کې، او پوره به ورکړه شي هر نفس ته جزا د هغه عمل چې کړی يې وي، حال دا چې په دوی به ظلم ونه کړی شي (د حسناتو په کمولو يا د سيئاتو په زياتولو).

تفسير: يعني په وهمي جرائمو باندې به سزا نه ورکوله کيږي، بلکه پر هغو چارو باندې به دوی ته سزا ورکوله کيږي، چې د هغه جرم ثابت وي، او دوی يې په خپله هم مني، او هومره چې دوی استحقاق لري، له هغې ځنې زياته سزا هغوی ته نه ورکوله کيږي، او نه به د چا خورا لږه نيکي ضايع کېدی شي.

قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ ۖ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٦﴾

ووايه (ای محمده !) يا الله (ای) مالکه د سلطنت (واکداره د پاچاهی !) ورکوې ته سلطنت هر هغه چا ته چې اراده وکړي (يا الله د ورکولو يې) او بېرته اخلې سلطنت له هر هغه چا ځنې چې اراده وکړي (دبېرته اخيستو يې) او عزت ورکوې هر هغه چاته چې اراده وکړي (يا الله د عزت

يې) او خوار ذليل کوي هر هغه څوک چې اراده وکړی (دذلت يې)، په لاس ستا کې (هر راز) خير (ښېګڼې) دي، بېشکه ته (يا الله) پر هر شي باندې ښه قادر يې (هم په ورکولو، هم په اخيستلو، هم په عزت، هم په ذلت).

تفسير: يهودانو او منافقانو په مسخرو او د ټوکو په ډول سره ويل: «وګورئ ! دا خواران چې د قريشو د حملې او يرغل له وېرې د مدينې په چارچاپېر کې خندقونه کندي، د (قيصر) او (کسری) د تاج او تخت د نيولو خوبونه وينې»، مګر الله تعالى د څو کلونو په منځ کې دا ټولې وعدې ټولو ته وروښودې، چې د (روم) او (پارس) د خزانو هغه ګردې کيليګانې (کنجيانې) يې چې د هغو وعده يې له پاک رسول صلى الله عليه وسلم سره کړې وه، د عمر فاروق اعظم رضي الله عنه په زمانه کې يې څرنګه د مسلمانانو لاس ته وروستلې، او په څه ډول سره د اسلامي مجاهدينو په منځ کې وويشلى شوې؟

اصلي خبره خو داده چې دا مادي عزت او سلطنت څه شى نه دى، ګواکې دا دعا يو راز پېښګويي وه چې عنقريب د دنيا نقشه بدليدونکې ده، هغه قوم چې له دنيا څخه لرې او جلا پروت وو، د دنيا د لويو سلطنتونو او عزتو خاوند به شي، او هغه کسان چې پاچاهي يې کوله، دوی به د خپلو بدو عملونو له امله د خواری او ذلت په کندو کې وغورځول شي.

تُولِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَتُولِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ

ننه باسې (ته يا الله) شپه په ورځ کې (چې تل په پسرلي کې له شپو کموې، او په ورځو کې يې زياتوې) او ننه باسې (ته يا الله) ورځ په شپه کې (چې تل په مني کې له ورځو کموې، او په شپو کې يې زياتوې).

تفسير: يعنې کله چې شپه لنډه وې ورځ اوږده وې، او کله ددې عکس کوې، مثلا په يوه موسم کې (د جدي اوله) شپه ۱۴ ګړۍ، او ورځ لس ګړۍ کوې، او څو مياشتې وروسته (د سرطان اوله) کې له شپې څخې ګړۍ لنډوې، او په ورځ باندې يې زياتوې، او شپه لس ګړۍ کوې، ځکه چې لمر او سپوږمۍ او ګرد ستوري او نور يې ستا له ارادې څخه يو ذره هم حرکت نشي کولى.

وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ

وباسې (ته يا الله !) ژوندى له مړي نه (لکه حيوان له نطفې نه، مرغه له هګۍ، کامل له ناقص) او وباسې (ته يا الله !) مړى له ژوندي نه (لکه نطفه له حيوان، هګۍ له مرغه، ناقص له کامل نه).

تفسير: يعنې لکه هګۍ له چرګې څنې او چرګه له هګۍ څنې، بنيادم له نطفې څنې، او نطفه له بنيادم څنې، له جاهل څنې عالم، او له عالم څنې جاهل، له کامل څنې ناقص، او له ناقص څنې کامل ايستل او جوړول همدا ستا کار دى.

وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۲۷﴾

او روزي ورکوې (ته يا الله) هر هغه چا ته چې اراده وفرمايې (د روزي ورکولو يې ډېره زياته) بې حسابه.

تفسير: «يهودانو هسې ګڼله هغه لويي چې پخوا په مونږ کې وه؛ هغه به تل پاتې وي، او د الله تعالى له قدرت څنې غافل وو، چې الله تعالى هر هغه چاته چې اراده وکړي، عزت او سلطنت ورکوي، او هغه چا ته چې اراده وکړي، ذلت او

نکبت ورکوي، په جاهلانو کې کامل پیدا کوي (لکه چې د عربو په امیانو کې یې محمد صلی الله علیه وسلم) او له کاملانو ځنې جاهلان پیدا کوي، (لکه چې په بني اسرائیلو کې یې وکړ) او هر هغه چا ته چې اراده یې وشي، (حسي او معنوي) بې حساب رزق ورکوي».

لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِيْ شَيْءٍ اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقٰىةً ۭ

نه دې نیسي مؤمنان کافرانو لره دوستان بې له مؤمنانو (یعني مؤمنان دې یو له بله سره دوستي وکړي)، او هر څوک چې وکړي دا (کار یعني دوستي له کفارو سره) نو نه دی (د ده تعلق) له (دین د الله یا د دوستۍ د) الله سره په هیڅ شي کې، مګر (خو روا ده دغه دوستي) که ځان ساتئ تاسې له دوی نه په ځان ساتنه سره.

تفسیر: یعنې کله چې د حکومت او د سلطنت او د جاه او عزت او د هر راز تقلباتو او تصرفاتو واګې یواځې د پاک الله په لاس کې دي، نو هغو مسلمانانو لره چې په صحیحه معنی سره باور لرونکي دي، نه ښایي چې دخپلو دوستانو په دوستۍ او د خپلو اسلامي وروڼو په وروروليۍ اکتفا ونه کړي، او خامخا د الله جل جلاله د دښمنانو سره دوستي او مدارات وکړي، ځکه چې الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دښمنان هیڅهرې د مسلمانانو دوستان نه شي کېدی، هو ! د تدبیر او انتظام په درجه کې د کفارو له لوی ضرر څخه د خپلې ضروري ژغورنې (ساتنې) او د حفاظت صورتونه په مشروعو او معقولو طریقو سره غوره کول، د «ترک موالات» له حکم ځنې په دې ډول سره مستثنی دي، لکه چې د ۹ م جزء (د الأنفال په ۱۶ آیت ۲ رکوع) کې له ﴿وَمَنْ يُّوَلِّهِمْ يَوْمَىِٕذٍ دُبُرَهٗٓ﴾ ځنې ﴿اِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ اَوْ مُتَحَيِّزًا اِلٰى فِئَةٍ﴾ مستثنی کړی شوی دی، همغسې چې هلته د «تحرف» او د «تحیز» په حالت کې حقیقتا «فرار من الزحف» نه وي، او یواځې صورتًا وي، دلته هم ﴿اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقٰىةً﴾ حقیقي موالات نه دی، او تش صوري «موالات» دې وګڼل شي ! چې مونږ هغه د «مدارات» په نامه سره یادوو، ددې مسئلې تفصیل دې (۶ جزء د «المائدة» په ۸ رکوع د دې ۵۱ آیت د فوائدو په شرح کې وکتل شي !) ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ﴾ الآیة.

وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ۭ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ۝۲۸

او ویروي تاسې لره الله له نفس خپل نه، او (خاص) طرف د الله ته دې ورتله (ستاسې او د ټولو).

تفسیر: یعنې د مؤمن په زړه کې ښایي اصلي وېره له پاک الله څخه وي، او داسې کومه خبره دې نه کوي، چې د الله تعالی د ناراضۍ سبب شي، لکه چې له اسلامي جماعت ځنې تجاوز وکړي، او بې له ضرورته له کافرانو سره ظاهري یا باطني «موالات» وکړي، یا د ضرورت په وخت کې د موالاتو د غوره کولو په صورت کې له شرعي حدودو ځنې تېرۍ او تجاوز وکړي، یا یواځې موهوم او حقیر خطرونه یقیني او مهم ثابت کړي، یا دا ډول مستثنیات یا شرعي رخصتونه د خپلو نفساني غوښتنو آله وګرځوي، نو داسې کسانو لره ښایي چې دا خبره هم په یاد ولري چې دوی ګرد دپاک الله لوی دربار کې حاضریدونکي دي، او هلته به دوی د خپلو دغو دروغو، حیلو، او پلمو (منصوبو) جزا مومي.

ښایي د قوي مؤمن شان، او د صحیح مسلمان ایمان داسې وي، چې له رخصت ځنې تېر شي !، او عزیمت او فعالیت ته متوجه او ځیر شي !، او له مخلوق ځنې ونه ویرېږي، او تل تر تله له خالق جل و علا ځنې ووېرېږي.

قُلْ إِنْ تُخْفُوا مَا فِي صُدُورِكُمْ أَوْ تُبْدُوهُ يَعْلَمْهُ اللَّهُ

ووایه (ای محمده ! دوی ته) که پټ کړئ تاسې هغه شی چې په سینو (زړونو) ستاسې کې دی، یا ښکاره کړئ تاسې هغه؛ معلوم دی هغه (هم) پاک الله ته.

تفسیر: یعنې ممکن دی چې بنیادم خپل نیت او د زړه خبره له نورو ځنې پټه کړي، ولې په دې ډول الله تعالی نشي تړې ایستلی، ﴿وَاللَّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ﴾، د (۱) جزء د «البقرة» سورت ۲۷ رکوع، ۲۲۰ آیت.

وَيَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٩﴾

او معلوم دی (الله ته ټول) هغه شیونه چې په اسمانونو کې دي (له علویاتو) او هغه شیونه چې په ځمکه کې دي (له سفلیاتو، نو الله ته ستاسې پټ او ښکاره هم معلوم دي) او الله پر هر شي باندې ښه قادر دی (چې ځینې یې د داسې متخلفینو تعذیب دی).

يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُحْضَرًا ۖ وَمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوءٍ تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ أَمَدًا بَعِيدًا ۗ

(او وویرېږئ له) هغې ورځې چې مومي به هر نفس (په کې) هر هغه څه چې کړي وي له خیره (له نیکۍ په خپل مخ کې) حاضر کړی شوی، او هر هغه څه چې کړي وي ده له بدۍ نه، آرزو به کوي دا (نفس) د دې چې کاشکې په منځ د دې (نفس کې) او په منځ د دغه (بد عمل) کې مسافه وی لرې (اوږده).

وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسَهُ ۗ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ ﴿٣٠﴾

او ویروي تاسې الله له نفس خپل نه، او الله ډېر مهربان دی پر بندګانو (خپلو).

تفسیر: دا هم د ده له مهربانۍ ځنې ده؛ چې د هغې لویې ویروونکې ورځې له راتګه تر مخه تاسې وړ ځنې ډاروي، او په تکرار سره مو خبروي، چې له خرابو چارو څخه مخصوصا د کافرانو له دوستۍ ځنې مو ځانونه وژغورئ (وساتئ) !او د ښېګڼې (خیر) په لاره باندې سم لاړ شئ، او د قهار پروردګار له قهر ځنې مو ځانونه لا له پخوا وساتئ !، د پاک قرآن دا ځان ته یو دستور دی، چې عموما له خوف سره د رجا مضمون ګډ اوروي، دلته یې هم د ترهیب او ویرې د مضمون د معتدل کولو له امله ﴿وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ﴾ په آخر کې راوړ، یعنې له الله جل جلاله څخه وویرېږئ، او خراب او بد کارونه پرېږدئ !، نو د ده مهرباني به بیا تاسې د استقبال لپاره تیاره ده.

قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٣١﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) که چېرې یئ تاسې چې محبت کوئ له الله سره، پس متابعت وکړئ زما، چې محبت به وکړي الله له تاسې سره، او مغفرت به وکړي تاسې ته د ګناهونو ستاسې، او الله مغفرت کوونکی د (خطیاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسیر: د الله تعالی د دښمنانو د موالات او محبت له منع کولو څخه وروسته د الله تعالی د مینې او محبت معیار راښیي، یعنې که په دنیا کې څوک د خپل حقیقي مالک د محبت دعوی یاخیال لري، نو لازم دي چې هغه د محمدي (صلی الله وسلم علی محمد) دین د متابعت په محک (کسوټی) باندې وسولولی شي، چې دده دروغ او رښتیا ښکاره شي،

هر سړی په هره اندازه چې د محمد صلی الله علیه وسلم په شریعت باندې سم ځي، او د اسلامي دین رڼا د خپلې لارې مشعل ګرځوي، نو ښایي په همغه اندازه سره د الله تعالی په محبت کې صادق او سوچه وپېژندل شي، او په هره اندازه چې دی په دې دعوی کې رښتین وي، په همغه اندازه سره هغه د محمد صلی الله علیه وسلم د شریعت په پیروی کلک او ټینګ ګڼلی شي، چې د هغه مېوه به ده ته داسې په لاس ورځي، چې پاک الله به د ده سره مینه کوي، او د الله تعالی د مینې، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د متابعت په برکت به د ده هغه پخوانۍ ګناهونه معاف، او وروسته له هغه به، د پاک الله د راز راز ظاهري او باطني مهربانیو مورد وګرځي.

ګواکې د توحید له بیان څخه وروسته له دې ځایه د نبوت په بیان شروع کیږي، او د آخر الزمان پیغمبر رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت ته بلنه کیږي.

قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ ﴿٣٢﴾

ووایه (ای محمده دوی ته) چې اطاعت کوئ تاسې د الله او د رسول (د الله چې محمد دی)، پس که وګرځېدل دوی (له دې اطاعت نه) پس بېشکه الله دوستي نه کوي له کافرانو سره (نو په عذابوي یې).

تفسیر: یهودانو او نصرانیانو به ویل چې: ﴿نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ﴾ «مونږ د الله تعالی ځامن او دوستان یو»، دلته دا ښکاره شوه چې کافر هیڅکله د الله تعالی محبوب نشي کېدی، او که په رښتیا سره مو د هغه محبوبیت پکار وي، نو د هغه د احکامو په تعمیل کې زیار (محنت) وکړئ، او د ده د رسول صلی الله علیه وسلم احکام ومنئ، او د الله تعالی د لوی محبوب او دوست د سنتو متابعت وکړئ !.

د نجران جرګې همداسې ویلي وو، چې مونږ د مسیح علیه السلام تعظیم اوعبادت د الله تعالی د تعظیم او د محبت لپاره کوو، په دې سره د هغو ځواب هم ورکړ شو.

إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰ آدَمَ وَنُوحًا وَآلَ إِبْرَاهِيمَ وَآلَ عِمْرَانَ

بېشکه چې الله غوره کړی دی آدم او نوح او اولاده د ابراهیم (او ابراهیم) او اولاده دعمران (او عمران).

تفسیر: «یعنې بېشکه الله غوره کړی دی آدم علیه السلام په نبوت، رسالت، د اسماوو په تعلیم، د ملائکو په سجده، په بې له مور او پلاره پیدا کولو او د ټولو انسانانو په پلارتوب سره، او غوره کړئ یې دی نوح علیه السلام په نبوت، رسالت، د عمر په اوږدوالي، او د پخوانۍ شریعت په منسوخولو سره، او ابراهیم علیه السلام او آل د ده چې اسماعیل علیه السلام او اسحاق علیه السلام او د دوی اولاده؛چې ځمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په دغه اولاده او آل کې داخل دی، او آل د (عمران) چې موسی او هارون، او بي بي مریمه او عیسی علیهم السلام په کې شامل دي؛ په خلت، رسالت، او نورو مفاخرو او محامدو سره».

عمرانان دوه دي: یو د موسی علیه السلام پلار، دویم د مریمې رضي الله تعالی عنها پلار، زیاتره پخواني او وروستني علما له دې (عمران) ځنې ثاني (عمران) مرادوي، ځکه چې ﴿إِذْ قَالَتِ امْرَأَتُ عِمْرَانَ﴾ د همغه دویم (عمران) له کورنۍ څخه قصه کوي، او غالبا ددې سورت نوم به هم له همدې امله (آل عمران) ایښودل شوی وي، چې په هغه کې د ثاني (عمران) د کورنۍ (یعني د عیسی علیه السلام او مریمې رضي الله تعالی عنها) قصه په بسط او تفصیل سره ذکر شوې ده.

عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۳﴾ ذُرِّيَّةًۢ بَعْضُهَا مِنْۢ بَعْضٍ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۳۴﴾

پر ټولو خلقو (د زمانې خپلې په رسالت او روحاني او جسماني خصائصو سره). حال دا چې اولاده وو ځینې د دوی له ځینو نورو څخه، او الله ښه اوربدونکی دی (د ګردو اقوالو) ښه عالم (پر ټولو احوالو).

تفسیر: د آدم علیه السلام دا انتخاب او غوره والی، فضل او شرف چې مونږ یې په «نبوت» سره تعبیروو، د ده په شخصیت پورې محدود نه وو، بلکه د ده په اولاده کې نوح علیه السلام ته هم ورسېد، بیا له ده ځنې د ده په اولاده کې ابراهیم علیه السلام ته ورسېد، له دې ځایه یې یو نوی صورت پیدا کړ، له آدم او نوح علیهما السلام څخه وروسته څومره انسانان چې په جهان کې پیدا شوي دي، دوی ګرد د همدې دوو معظمو رسولانو له اولادې ځنې وو، او الله تعالی په خپل محیط علم او کامل اختیار سره په راتلونکو پېړیو کې هم د زرهاوو کورنیو په منځ کې، د دې لوی منصب لپاره د ابراهیم علیه السلام کورنۍ مخصوصه کړه، څومره انبیاء او رسولان چې له ابراهیم علیه السلام څخه وروسته مبعوث شوي دي، هغه ټول د ده د دوو ځامنو «اسحاق علیه السلام، او اسماعیل علیه السلام» له اولادې څخه وو.

څرنګه چې د نسب سلسله عموما پلار ته منسوبېږي، او مسیح علیه السلام بې پلاره پیدا شوی وو، نو داسې وهم کیدی شو چې د ده نسل به د ابراهیم علیه السلام له نسل ځنې مستثنی وي، له دې کبله الله تعالی آل دعمران او ﴿ذُرِّيَّةًۢ بَعْضُهَا مِنْۢ بَعْضٍ﴾ وفرمایه، او په دې سره یې تنبیه ورکړه: چې هر کله مسیح علیه السلام یواځې د خپلې مور له ګېډې ځنې پیدا شوی دی، نو د هغه د نسب سلسله هم د مور له لوري اخیستل کیږي، نه چې معاذ الله د الله تعالی له لوري، او ښکاره ده چې د ده د مور صدیقې مریمې رضي الله تعالی عنها د پلار د نسب سلسله بالآخره ابراهیم علیه السلام ته رسیږي، نو د (عمران) آل او د ابراهیم علیه السلام آل دواړه سره یو دي، او هیڅ یو رسول له ابراهیمي کورنۍ ځنې د باندې پاتې نه شو.

اِذْ قَالَتِ امْرَاَتُ عِمْرٰنَ رَبِّ اِنِّيْ نَذَرْتُ لَكَ مَا فِيْ بَطْنِيْ مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّيْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۵﴾

(یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چې وویل ښځې د عمران چې: ای ربه زما ! بېشکه ما، نذر کړی مې دی تاته هغه شی چې په ګېډه زما کې دی، حال دا چې هغه به آزاد وي (له نورو مشاغلو د بیت المقدس خدمت ته)، پس قبول کړه ته (ای ربه ! دا نذر) له ما نه، بېشکه ته چې یې هم دا ته یې ښه اوربدونکی (د ګردو اقوالو) ښه عالم (په ټولو احوالو).

تفسیر: د «عمران» ښځې دخپلې زمانې له دوده (رواجه) سره سم پخپل ځان باندې نذر منلی وو، چې «ای ربه ! هغه هلک چې زما په ګېډه کې دی، ستا په نامه دې آزاد او خوشې وي»، د دې خبرې مطلب دا دې چې هغه له ګردو دنیوي مشاغلو او له نورو شیانو ځنې خلاص او تل به د الله جل جلاله په عبادت کې بوخت (مشغول) او د معبد په خدمت کې به لګیا وي، ای الله جل جلاله ! ته له خپلې مهربانۍ ځنې زما دا نذر قبول کړه ! ته زما عرض اوري، او زما نیت او اخلاص تاته ښه معلوم دی، ګواکې په دې لطیف ډول سره یې وغوښت چې هلک ور په برخه شي، ځکه چې جینۍ د هغه خدمت لپاره نه قبلېده.

فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ اِنِّيْ وَضَعْتُهَآ اُنْثٰى ؕ

پس کله چې ویې زېږاوه هغه (نذر) نو وویل (ښځې دعمران) چې: ای ربه زما، بېشکه زه چې یم ومې زېږاوه هغه (نذر) حال دا چې ښځه (جینۍ) ده.

تفسیر: دا یې په حسرت او افسوس سره وویل، ځکه چې هغه پېښه د دې له توقع او هیلې ځنې پرته پېښه شوې وه، او د جونو د خدمت منلو دستور په معابدو کې نه وو.

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ ؕ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْاُنْثٰى ۚ

او الله ښه پوه دی په هغه شي چې زېږولی وو دې (د عمران ښځې)، او نه دی نارینه (چې هغې غوښتی وو لپاره د خدمت د بیت المقدس) په شان د دې ښځې (جینی).

تفسیر: دا د الله جل جلاله کلام دی، چې د حکایت په منځ کې د معترضې جملې په ډول نازل شوی دی، یعنې هغې ته ښکاره نه وه چې څه یې زېږولي دي؟ د دې جینی قدر او قیمت الله تعالی ته ښه معلوم دی، هغه هلک چې دې غوښت دې جینی ته کله رسېدی شي، دا جینی بالذات مبارکه ده، او د دې په وجود کې یو عظیم الشأن مبارک هلک پروت دی.

وَاِنِّیْ سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَاِنِّیْۤ اُعِيْذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ﴿۳۶﴾

او بېشکه ما نوم کېښود د دې مریمه، او بېشکه زه پناه نیسم دې لپاره تا پورې او اولاد د دې (مریمې ته) له شیطان مردود (رټلي شوي) نه.

تفسیر: حق تعالی دا دعا قبوله کړه، په حدیث شریف کې دي: «هر کله چې د بنیادمانو اولاده د زېږېدلو په وخت کې له موره جلا شي، او په ځمکه ولویږي، نو شیطان یې مس کوي، مګر عیسی علیه السلام او مریمه رضي الله تعالی عنها له دې مس څخه مستثنی دي»، ددې حدیث مطالب دنورو احادیثو له یو ځای کولو سره داسې کیږي، چې هر مولود اصلا په صحیح فطرت پیدا کیږي، چې دغه فطرت له لوینې او د ده د عقل او تمیز له ظهور څخه وروسته څرګندیږي، و لې د شاوخوا د حالاتو او خارجي اثراتو له امله ډېر ځلې د هغه اصلي فطرت ورکیږي، چې د دغه مطلب تعبیر په حدیث کې په «فأبواه یهودانه و ینصرانه» سره شوی دی، بیا څنګه چې د ایمان او طاعت تخم د ده د فطرت په جوهر کې پټ او په غیر مرئي ډول اینبود شوی دی، حال دا چې په هغه وخت کې ایمان لا څه، چې د غټو غټو محسوساتو له ادراک او شعور نه هم هغه مولود عاجز وي، په همدې توګه د ولادت په وخت کې په غیر محسوس ډول د شیطان په مس کولو سره خارجي اثر شروع کیږي، دا ضروري نه دی چې هر څوک د شیطان د مس کولو اثر قبول کړي، یا که یې قبول نه کړي، نو وروسته له هغه؛ هغه اثر همغسې پاتې هم وي.

فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُوْلٍ حَسَنٍ وَّاَنْۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا ۙ وَّكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا ؕ

پس قبول کړه دا (مریمه) رب د دې (د نارینه په ځای) په قبلولو ښو سره، او زرغونه (لویه) یې کړه په زرغونولو (لویولو) ښو سره، او (الله) کفیل وګرځاوه دې لره زکریا علیه السلام.

تفسیر: یعنې اګر که جینی وه، خو الله تعالی هغه له هلک ځنې زیاته وګرځوله، او ویې منله، د بیت المقدس د مجاورینو په زړونو کې یې د اخبره واچوله، چې له عام دود (رواج) او دستور څخه پرته هغه جینی د بیت المقدس په خادمانو کې شامله کړي، او همغسې یې مریمې رضي الله تعالی عنها ته هم د قبول صورت ورعطا او خپل منلي بنده زکریا علیه السلام ته یې په کفالت ورکړه، او په خپل دربار کې یې په ښو منلو سره سر لوړي ورکړه، په جسماني، روحاني، علمي، اخلاقي، او له هر حیثه یې زیاته ترقي ور په برخه کړه، کله چې په مجاورینو کې د دې د پالنې په نسبت جګړه پېښه شوه، نو د انتخاب قرعه د زکریا علیه السلام په نامه وخته، چې دا جینی د خپلې ترور د شفقت په غېږ کې تربیت

وموميي، او د زکريا عليه السلام له علم او ديانت څخه ګټوره شي، زکريا عليه السلام د مريمې رضي الله تعالى عنها په تربيت او مراعات کې څومره يې چې د لاسه کېده هم هغومره يې کوښښ کاوه، کله چې بي بي مريمه رضي الله تعالى عنها پېغله شوه، نو مسجد سره يې نږدې ورته يوه ځانته حجره مخصوصه کړه، چې دې بي بي به ټوله ورځ هلته عبادت کاوه، او د شپې له مخې به بېرته خپلې ترور کره ورتله.

كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا

هر کله به چې ننوت دې ته زکريا په محراب (په عبادت خانه) کې نو موندله به يې له (مريمې) سره څه روزي (يعنې مېوې د ژمي په اوړي، او مېوې د اوړي په ژمي کې).

تفسير: د اکثرو اسلافو په نزد له (رزق) څخې مراد ظاهري خواړه دي، وايي چې له بي بي مريمې رضي الله تعالى عنها سره بې موسمه مېوې پيدا کېدې، د اوړي تازه مېوې په ژمي کې، او د ژمي تازه مېوې به په اوړي کې له دې سره تل پرتې وې.

قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَا ۖ قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ۖ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٧﴾

وويل (زکريا): اې مريمې له کومه (راغلې) ده تاته دا روزي؟ وويل (مريمې زکريا ته): چې دا (روزي) له طرفه د الله ده، بېشکه چې الله روزي ورکوي هغه چا ته چې اراده وفرمايي (د روزي ورکولو يې ډېره پرېمانه) بېحسابه.

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُ ۖ قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۖ إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ ﴿٣٨﴾

په دغه ځای (يا وخت) کې دعا (غوښتنه) وکړه زکريا له ربه خپله، وويل (زکريا): اې ربه راوبخښه ! (راکړه) ما ته له نزده خپل اولاد ښه پاکيزه ! بېشکه ته ښه اورېدونکی (قبلوونکی) د دعا يې.

تفسير: زکريا عليه السلام بيخي سپين ږيری او (۱۲۰) کلن شوی وو، ښځه يې (۹۸) کلنه او بيخي شنډه وه، دوی ته د اولاد پيدا کېدلو هيڅ يوه ښکاره هيله نه وه، د بي بي مريمې د دې فوق العاده خير او برکت او خوارقو د ليدلو په سبب ناڅاپه د زکريا عليه السلام په زړه کې يو جوش پيدا شو، او سمدلاسه يې دا په زړه کې وګرځېده، چې ماته هم ښايي چې اولاد په نسبت د پاک الله په دربار کې دعا وکړم، هيله شته چې ماته به همدا مېوه بې له موسمه راکړه شي، يعنې په دې زړښت (بوډا والي) کې به د پاک الله په مهربانۍ اولاد را په برخه شي، د «ذرية» اطلاق په واحد او کثير يو رنګ کاوه شي.

فَنَادَتْهُ الْمَلَائِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ أَنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ

نو ور ناړې کړې ده ته (زکريا ته) پرښتو (جبريل) حال دا چې دې ولاړ وو، لمونځ يې کاوه په محراب کې (عبادت خانه) کې چې بېشکه الله زېرې کوي په تا د يحيى (چې ستا ځوی به وي).

تفسير: دعا يې ومنله شوه، زېرې ور ورسېد چې ستا په کور کې يو هلک پيدا کيږي، چې د هغه نوم يحيى عليه السلام اينبود شوی دی، د «الملائكة» کلمه د جمعې په صورت سره راوړل يا به تعظيما وي، يا به د ملائکو جنس ور څخه مراد وي.

مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللَّهِ

حال دا چې تصديق کوونکی به وي په يوه کلمه سره چې (له طرفه د) الله ده.

تفسير: له يوې کلمې ځنې دلته مسيح عليه السلام مراد دی، چې د الله تعالی د حکم سره سم بې له پلاره پيدا شوی دی، يحيی عليه السلام لا له پخوا څخه خلقو ته خبر ورکاوه، چې مسيح عليه السلام پيدا کيدونکی دی.

وَسَيِّدًا وَحَصُورًا

حال دا چې سردار به وي (د خپل قوم په علم، حلم او تقوی سره) او ډېر منع راوړونکی به وي (له شهواتو سره له قدرته).

تفسير: يعنې له لذاتو او شهواتو ځنې به زيات ځان ساتونکی وي، او د الله تعالی په عبادت کې به دومره لګيا وي چې د ښځې په لوري به د التفات کولو وار هم نه ورته رسيږي، دا د يحيی عليه السلام د مخصوص حال بيا ن وو، چې له هغه څخه د محمدي امت لپاره کومه قاعده نشي کېدی، ځمونږ د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم پوره امتياز دا دی چې د عبادت له کمال سره يې د معاشرت کمال يو ځای کړ.

وَنَبِيًّا مِّنَ الصَّالِحِينَ ﴿٣٩﴾

او نبي به وي له (ډلې د) صالحانو نه (چې نه به خطا کيږي، او نه به ګناه ته قصد کوي).

تفسير: د صلاح او رشد په اعلی مرتبه باندې به فائز کيږي، چې هغه ته «نبوت» ويل کيږي، يا د «صالح» معنی نېک عمله وي، چې په هغه تقدير به د هغه معنی خورا (ډېر) نيک عمل کيږي.

قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَقَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ وَامْرَأَتِي عَاقِرٌ ۖ قَالَ كَذَٰلِكَ اللَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ ﴿٤٠﴾

وويل (زکريا) «اى ربه ځما ! څرنګه به پيدا کيږي ما لره هلک؟ حال دا چې په تحقيق رسېدلی دی ماته زوړوالی او ښځه مې (هم) شنډه ده»، وويل (جبريل): همداسې (له زوړ او زړې شنډې ښځه د اولاد پيدا کول په شان) الله کوي هغه کار چې اراده وفرمايي (د کولو يې که مخالف وي له عادته يا موافق).

تفسير: يعنې د هغه قدرت او مشيئت د اسبابو په سلسلې پورې تړلی نه دی، اګر که په دې عالم کې د هغه عادت همداسې دی چې له عادي اسبابو څخه مسبّبات پيدا کوي، خوکله کله د عادي اسبابو په خلاف په غير معمولي طريقې سره د يوه شي پيدا کول هم د هغه خاص عادت دی، اصل دا دی چې مريمې صديقې رضي الله تعالی عنها ته په خارق العاده ډول رزق رسېدل، او ډېر غير عادي واقعات ورځرګندېدل، د دې وضعيت په ليدو سره د بي بي مريمې په حجره کې ناڅاپه د زړه له کومې د زکريا عليه السلام دعا کول بيا ده ته او د ده شنډې ښځې ته په عين زړښت کې په غير عادي توګه اولاد ورکول، بايد د الله تعالی دغه ګردې (ټولې) علامې د هغه عظيم الشأن آيت تمهيد وګڼلی شي، چې د بي بي مريمې رضي الله تعالی عنها له وجوده بې د زوج له نږدې کېدلو په قريب مستقبل کې ظاهر کېدونکی وو.

ګواکې د يحيی عليه السلام په غير معتاد ولادت باندې ﴿كَذَٰلِكَ اللَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ﴾ فرمايل تمهيد وو لپاره د ﴿كَذَٰلِكِ اللَّهُ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ﴾ چې وروسته له دې نه د مسيح عليه السلام د غير معتاد ولادت په سلسله کې راتلونکی دی.

قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيٓ اٰيَةً ؕ

ویل (زکریا) ای ربه ځما ! وګرځوه ما لره څه علامه (د حمل چې لا زما د شکر کولو سبب شي).

تفسیر: یعنې چې له هغه ځنې څرګند شي چې اوس حمل قرار نیولی دی، تر څو ده ته د ولادت د آثارو د نږدېوالي د لیدلو له کبله یوه نوي خوشالي هم حاصله او د نعمت په شکر کې زیاتره لګیا شي.

قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ اِلَّا رَمْزًا ؕ

نو وویل (جبریل): «علامه» ستا داده چې خبرې به نه کوې ته له خلقو سره درې ورځې (او شپې) مګر په اشاره سره.

تفسیر: یعنې هلته به تاته دا حالت درپېښ شي چې تر درې ورځو او شپو پورې به له خلقو سره پرته له اشارې هیڅ خبرې ونشې کړی، او ستا ژبه به یواځې د پاک الله په ذکر کې لګیا اوسي، نو وپوهیږه چې اوس حمل مستقر شوی دی، سبحان الله ! هسې علامه یې ټاکلې (مقرر کړې) ده چې د علامو علامه وي، او د خبرېدلو ځنې کوم غرض چې د نعمت شکر دی، هغه هم علی وجه الکمال حاصل شي، ګواکې که وغواړي چې پرته د الله تعالی له ذکر او فکر ځنې کوم شی ووینې، نو په خپله ژبه سره یې نشي ویلی.

وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيْرًا وَّسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ۝۴۱

او یادوه رب خپل ډېر (لپاره د شکر) ! او تسبیح وایه (لمونځ کوه) ! په آخر د ورځې کې، او په اول د ورځې کې.

تفسیر: یعنې په دغه وخت کې ښایي چې ډېر زیات د الله تعالی په ذکر او فکر کې مشغول، او سبا او بېګا په تسبیح او تهلیل کې مصروف اوسې ! معلومیږي چې له بنیادمانو سره خبرې نه کول یو اضطراري کار او د دې لپاره وو، چې هغه ورځې یواځې د پاک الله ذکر، شکر، او فکر ته فارغې او تشې پاتې شي، مګر په ذکر او شکر بوختېدل او مشغولېدل اضطراري نه وو، بلکه په هغه مأمور شوی وی.

وَاِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىكِ وَطَهَّرَكِ وَاصْطَفٰىكِ عَلٰى نِسَآءِ الْعٰلَمِيْنَ ۝۴۲

او (یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چې وویل پرښتو (یعنې جبریل): ای مریمې ! بېشکه چې الله غوره کړې یې ته (په کرامت اوعبادت) او پاکه کړې یې ته (له بدو اقوالو او احوالو څخه) او غوره کړې یې ته په ګردو (ټولو) ښځو د عالمیانو (یعنې پر ښځو د زمانې خپلې).

تفسیر: یعنې پرښتې بې بې مریمې رضي الله تعالی عنها ته وویل: چې ته د پاک الله له خوا ځنې لا پخوا غوره شوې یې، چې سره له جلتوبه (جینکتوبه) د بیت المقدس په خادمانو کې د نذرانې په توګه منلی شوې یې، او راز راز لوړ احوال او عالي کرامات در عنایت شول، ښه اخلاق، پاک طبیعت، ظاهري او باطني نزاهت یې دروبانبه، او د خپل مسجد د خدمت وړ (لائقه) یې ورګرځولې، او تا ته یې د ګرد (ټول) جهان پر ښځو په ځینو وجوهو کې فضیلت درکړ، مثلا په تا کې یې هسې یو استعداد کښنود، چې بې د بشر له مس کولو څخه یواځې د پاک الله په کامل قدرت لکه عیسی علیه السلام غوندې یو اولو العزم رسول له تا څخه پیدا شي، چې په دنیا کې داسې سرلوړي او امتیاز د هیڅ یوې بلې ښځې په برخه شوی نه دی.

يٰمَرْيَمُ اقْنُتِيْ لِرَبِّكِ وَاسْجُدِيْ

ای مریمې فرمان برداره شه ! (ولاړه شه ! بندګي کوه) لپاره د رب خپل ! او سجده کوه !

تفسیر: یعنې کله چې الله تعالی داسې عزت او لوړه مرتبه تاته درکړه، نو ښایي چې ته له اخلاص او تذلل سره د خپل رب جل جلاله په مخ کې سر ښکته کړې ! او د عبودیت د وظائفو په انجامولو کې لا زیاته لګیا او مشغوله اوسې ! څو هغه لوی امر چې د هغه د ظهور لپاره ته د وسیلې په ډول درولې شوې یې؛ ښکاره شي.

وَارْكَعِيْ مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿۴۳﴾

او رکوع کوه ! له نورو رکوع کوونکو سره (له نورو لمونځ کوونکو سره په جماعت لمونځ کوه !).

تفسیر: لکه چې رکوع کوونکي د پاک الله په مخ کې «رکوع» ته ځي، ته همغسې «رکوع» ته ولاړه شه ! یا یې دا مطلب چې په جماعت سره لمونځ ادا کړه !، او څنګه چې لږ تر لږه په رکوع کې له امامه سره شاملیدونکي، د هغه رکعت نیوونکي ګڼه شي، نو ښایي د دې له امله (وجې) لمونځ د رکوع په عنوان سره یاد کړی شوی وي، په دې تقدیر سره که په «اقنتي» کې له «قنوة» څنې «قیام» مراد شي، نو د «قیام» رکوع، او سجود یعنې د لمانځه د درې واړو هیئتونو ذکر به په آیت کې راځي.

(تنبیه): امکان لري چې په هغې زمانې کې به ښځې په عمومي ډول سره په جماعت کې شریکیدې، یا خاص له فتنې څنې د مأمون پاتې کیدلو په صورت به دوی ته اجازه شوې وي چې جماعت وکړي، یا به دا د بي بي مریمې رضي الله تعالی عنها خصوصیت وي، یا به بي بي مریمې رضي الله تعالی عنها پخپله حجره کې یوائې، یا له نورو ښځو سره په ګډه امام پسې اقتداء کوله، او لمونځونه به یې کول، دا ګرد احتمالات شته، والله أعلم.

ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ؕ

دا (د مریمې، زکریا، او د یحیی ذکر شوې قصې) له اخبارونو د غیبو څخه دي، چې مونږ یې په وحیې سره درلیږو تاته (ای محمده !).

تفسیر: یعنې په ظاهره کې ته لوستونکی او لیکونکی نه یې، او نه پخوا له دې نه تا له اهل کتابو سره کوم د اعتبار وړ صحبت کړی دی، چې د هغه په وسیله د تېرو پېښو داسې تحقیقي معلومات ولري، او که هغوی سره صحبت وکړی شي، نو بیا هم له هغو څنې نه شي مستفید کېدی، ځکه چې هغوی پخپله د اوهامو او خرافاتو په تیارو کې لویدلې دي.

وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ يُلْقُوْنَ اَقْلَامَهُمْ اَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ ۪ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ يَخْتَصِمُوْنَ ﴿۴۴﴾

او نه وې ته (ای محمده ! حاضر) په نزد د دوی (یعنې احبارو د بیت المقدس) کله چې دوی غورځول قلمونه خپل (په اوبو کې چې په دې قرعې سره معلوم کړي) چې کوم له دوی څنې تربیه وکړي د مریمې، او نه وې ته په نزد د دوی کله چې دوی جګړې سره کولې (په کفالت د مریمې کې).

تفسیر: کله چې بي بي مریمه رضي الله تعالی عنها د نذر په دود (دستور) ومنله شوه، نو د مسجد د مجاورانو په منځ کې سره جګړه شوه، چې د دې روزنه د چا په برخه شي؟ تر څو چې خبره قرعې اچولو ته ورسېده، ګردو مجاورانو

خپل هغه قلمونه چې په هغو سره به يې «تورات» ليکه، په بهېدونکې اوبو کې واچول، او دا يې سره وويل: «د هر چا قلم چې د دې بهېدونکو اوبو په سر ودرېږي، او اوبه يې يونسې، بلکه د اوبو د جريان په ضد لاړ شي، ښايي همغه د دې بي بي پالونکی وپېژنده شي»، په دې کې قرعه د زکريا عليه السلام په نامه وختله، او حق خپل حقدار ته ورسېده.

إِذْ قَالَتِ الْمَلَٰئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾

(ياد کړه اى محمده !) هغه وخت چې وويل ملائکو (يعنې جبريل): اى مريمې ! بېشکه الله زېرى درکوي تاته په يوې کلمې سره چې له طرفه د ده ده، نوم د هغه مسيح عيسى ځوى د مريمې دى، په دې حال کې چې مرتبې والا دى؛ په دنيا کې (په طاعت او نبوت) او آخرت کې (په رفعت او شفاعت) او (د الله) له مقربانو څخه دى.

تفسير: عيسى عليه السلام ته دلته او دقرآنکريم په نورو آيتونو کې «کلمة الله» له دې کبله ويل شوى دى چې د هغه ځېرېدل د عام عادت په خلاف پرته د پلار له واسطې څخه يوائې د الله تعالى په حکم سره وو، نو ځکه يې نسبت مستقيما د الله تعالى حکم ته وشو، لکه د الأنفال سورت په ۱۷ آيت کې چې فرمايي: ﴿وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ﴾ تنبيه: د «مسيح» لفظ اصلا عبراني دى، چې لومړى له دې نه «ماشيح» يا «مشيحا» وو، چې د هغه معنى «مبارک» او معرب يې «مسيح» دى، پاتې شوه دا خبره چې «دجال» ته مسيح ولې ويل کيږي؟ نو دغه لفظ بالاجماع عربي دى، چې د هغه د تسميې وجه پخپله موقع کې په څو ډولو سره بيان شوې ده، د مسيح عليه السلام بل نوم يا لقب عيسى عليه السلام دى، چې په عبراني ژبه کې «ايشوع» وو، او د هغه معرب «عيسى» شو، چې معنى يې «سيد» دى.

دا خبره په خاص ډول د توجه وړ ده، چې دلته لوى قرآن د «ابن مريم» کلمه مسيح لره د عَلَم او نوم د جزء په ډول استعمال کړه، ځکه چې پخپله يې بي بي مريمې رضي الله تعالى عنها ته د زيري ورکولو په وخت کې داسې وويل: چې تاته د «کلمة الله» زېرى درکول کيږي، چې د هغه نوم به «المسيح عيسى ابن مريم» وي.

ورسته يې ﴿وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ﴾ وويل، او ډاډ يې ورکړ؛ چې الله تعالى به يې نه يوائې په آخرت کې بلکه په دنيا کې به يې د لوى عزت او وجاهت او مرتبې خاوند کړي، او د دښمنانو الزامات به دروغ کړي، د «وجيه» په لفظ باندې دلته داسې وپوهېږئ ! لکه چې د موسى عليه السلام په نسبت الله فرمايلي دي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ اللَّهُ مِمَّا قَالُوا وَكَانَ عِندَ اللَّهِ وَجِيهًا﴾ (۲۲ جزء، د احزاب سورت ۶۹ آيت، ۹ رکوع).

ځواکې هغو کسانو ته «وجيه» وايي چې دوى په خصوصي ډول له دروغو، طعنو، او بدو الزاماتو څخې د الله تعالى په مهربانۍ برائت حاصلوي، هغه د باطني خبث څښتنان (خاوندان) چې د مسيح عليه السلام د نسب په نسبت طعنې کوي، يا کوم انسان په دروغو سره د هغه پلار بولي، يا يې د واقع په خلاف مصلوب يا مقتول يا يې د ژوندانه په حالت کې مړ بولي، يا د ألوهيت او ابنيت او نورې باطلې عقيدې او د مشرکانو تعليمات ده ته منسوبوي، نو پاک الله به مسيح عليه السلام له دې ځردو الزاماتو څخې په دنيا او آخرت کې په ښکاره ډول سره پاک او بري وګرځوي.

وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٤٦﴾

او خبرې به کوي له خلقو سره په مهد (د مور په غېږ يا په ځانګو يا په طفوليت) کې او په کهولت (پوره عمر) کې، او له صالحانو څخه به وي.

تفسير: يعني خورا (ډېر) ښايسته او په اعلى درجه نېک به وي، اول به دمور په غېږ کې، او بيا به په لويوالي کې عجيبې او غريبې خبرې کوي، په دې الفاظو سره په حقيقت کې د بې بې مريمې رضي الله تعالى عنها پوره تسکين وکړ شو، له پخوانيو بشارتونو او زېرو ځنې ممکن وو چې هسې خيال وکړي چې دغه وجاهت خو به يو وخت ورته حاصليږي، مګر د طعن او د پيغور سلسله د ولادت څخه وروسته سمدستي شروع کيږي، نو په دې وخت کې به په څه ډول سره ځان بري او پاک کړم؟، ددې خبرې ځواب يې ورکړ، چې مه ويرېږه ! تاته به د ژبې خوځولو هيڅ ضرورت نه پاتې کيږي، بلکه ته دا ور ښکاره کړه چې «زه نن روژه يم، او له خبرو ځنې مې خوله تړلې ده، زما هلک به پخپله ژبه تاسې ته ځواب درکوي»، لکه چې دا مطلب د «مريم» په سورت کې په پوره تفصيل سره راځي.

قَالَتْ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي وَلَدٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ ۖ

وويل (مريمې): «اى ربه ځما ! څرنګه به پيدا شي ما لره ځوى؟ حال دا چې مس کړې نه يم هيڅ بشر (نارينه، نه په نکاح سره، نه په سفاح «بدکارى» سره)».

تفسير: معلومه شوه چې بې بې مريمه رضي الله تعالى عنها له دې زيرې ځنې داسې وپوهېده، چې هلک په همدې موجوده حالت کې پيدا کېدونکى دي، که نه د تعجب هيڅ يوه موقع نه وه.

قَالَ كَذَٰلِكِ اللَّهُ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٤٧﴾

وويل (جبريل) همداسې (بې د نارينه له مس څخه) الله پيدا کوي هغه چې اراده وفرمايي (د پيدا کولو يې) هر کله چې اراده (حکم) وکړي (الله) د يوه کار، پس بېشکه همدا خبره ده چې ووايي هغه شي ته چې (پيدا) شه ! پس (پيدا) شي.

تفسير: يعني په همدې ډول بې د بشر د «مس» او لاس لګېدلو ځنې پيدا کيږي، د ده دعادت له مخالفت ځنې تعجب مه کوه !، الله تعالى د هر شي په هر رنګ چې اراده وکړي؛ هغه کېدونکى دى، د ده د قدرت تحديد امکان نه لري، د هر کار د کولو اراده چې وکړي، همغه کيږي، الله تعالى جل جلاله و أعظم شأنه نه مادې ته محتاج دى، او نه اسبابو ته ضرورت لري.

وَيُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ ﴿٤٨﴾

او ورزده کوي هغه ته (الله) کتاب (ليک) او حکمت (د شرعي احکامو علم، ژورې خبرې) او «تورات» او «انجيل».

تفسير: يعني ډېر ښه ليکل به ور زده کړي، يا به د ټولو کتابونو هدايت او د «تورات» او «انجيل» علم ده ته په خصوصي ډول سره ورښيي، او خورا (ډېر) زياتې د حکمت ژورې خبرې وريادوي، او ممکن دى چې له کتاب او حکمت ځنې قرآن او سنت مراد وي، ځکه چې مسيح عليه السلام به د نزول څخه وروسته ځمونږ د پاک قرآن او د رسول الله مبارک له سنتو سره سم کار کوي، او حکم به صادروي، او دا هم په هغه صورت کې امکان لري، چې ده ته ددغو شيانو علم او پوه ورکړه شي. والله أعلم.

وَرَسُولًا إِلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ ۖ أَنِّي قَدْ جِئْتُكُم بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ

او (ليږو يې) رسول طرف د بني اسرائيلو (اولادې د يعقوب) ته (چې وايي دوى ته) بېشکه زه په تحقيق راغلى يم تاسې ته په لويه علامه (دخپل صدق سره) له ربه ستاسې نه.

تفسير: يعنې له مبعوث کېدلو څخه وروسته خپل قوم بني اسرائيلو ته به هسې وايي.

أَنِّي أَخْلُقُ لَكُم مِّنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللَّهِ

ببشکه زه جوړوم تاسې ته (ای بني اسرائيلو) ! له خټو څنې په شان د شکل د مرغه؛ نو پو کړم په دې (شکل) کې، پس کيږي (هغه شکل) مرغه (الوتونکی) په اذن (حکم) د الله سره.

تفسير: يواځې د شکل او صورت جوړولو څخه په «خلق» سره تعبير کول، تش ظاهري حيثيت دی، لکه چې په صحيح حديث کې معمولي تصوير کښل په «خلق» سره تعبير شوی دی: «أحيو ما خلقتم»، يا په الله باندې د «احسن الخالقين» اطلاق دا راوښوول چې دا لفظ يواځې د ظاهري صورت په لحاظ د ما سوی الله په نسبت ويل کېدی شي، که څه هم د تخليق په لحاظ له الله تعالی څنې پرته بل هيڅا ته خالق نشي ويل کېدی، ښايي چې له همدې کبله يې داسې نه دي فرمايلي: «أني أخلق لكم من الطين طيرا» «زه له خټو څنې مرغه جوړوم» او داسې يې وفرمايل چې: «زه له خټو څخه د مرغه د شکل په شان جوړوم، او په هغه کې پو کوم، نو بيا هغه خټه د الله تعالی په حکم سره الوزي»، په هر حال دا معجزه يې دوی ته وروښوده.

وَأُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ وَأُحْيِي الْمَوْتَىٰ بِإِذْنِ اللَّهِ

او روغوم مورزادې (پيدائشي) رڼند، او پيس (برګ) او ژوندي کوم مړي په اذن (حکم) د الله سره.

تفسير: په هغه زمانه (پېړۍ) کې د طبيبانو او حکيمانو ډېره ترقي او زور وو، نو مسيح عليه السلام ته داسې معجزې مرحمت شوې، چې د خلقو په منځ کې پر ګردو (ټولو) لويو طبيبانو باندې د ده تفوق او لويوالی ثبت کړي، او ګرد طبيبان د هغو له معالجو څخه عاجز وي، بلا شبهه د مړي ژوندي کول؛ د الله تعالی له صفاتو څنې دی، لکه چې د «باذن الله» له قيده صافه ښکاره ده، مګر د دې له امله چې مسيح عليه السلام د هغه وسيله ګرځېدلی دی، نو يې توسعا په خپل لوري نسبت کوي.

تنبيه: «معجزه» هغه ده چې د پاک الله د عمومي عادت په خلاف د نبوت د مدعي له خوا د خپل تصديق لپاره ښکاره شي، نو که داسې نصوص واخيستی شي، چې د کوم شي په نسبت د الله تعالی عمومي عادت په کې بيان شوی وي، او بيا ترې داسې استدلال وکړي؛ چې په دې سره د معجزاتو نفي کيږي، بيخي له معجزاتو څخه انکار، او د خپل غباوت او حماقت اظهار دی، که «معجزه» له عمومي قانون او عادت سره برابره راشي، نو هغې ته به څوک «معجزه» وايي؟ د مسيح عليه السلام بې پلاره پيدا کېدل د ابرص او اکمه روغول، د مړي ژوندي کول، او د نورو معجزاتو ورښوول، د مسلمانانو په ګردو اخلافو او اسلافو کې يوه منلې شوې خبره ده، د اصحابانو رضي الله تعالی عنهم او تابعينو (رحمهم الله) په اقوالو کې يوه خبره هم داسې نشته، چې د مسيح عليه السلام د دې معجزاتو په نسبت څه تردد په کې ښکاره شوی وي.

وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ

او خبروم زه تاسې په هغه شي چې تاسې (يې) خورئ ! او (خبروم زه تاسې) په هغه شي چې تاسې (يې) ساتئ په کورونو خپلو کې.

تفسير: وروسته له دې نه په غيبو غيبي شيانو باندې عام له دې چې د ماضي وي، که د مستقبل؛ تاسې خبروم، له عملي معجزې څخه وروسته د يوې علمي معجزې ذکر فرمايي.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٤٩﴾ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ الَّذِي حُرِّمَ عَلَيْكُمْ

بېشكه په دې (معجزو) کې خامخا نښانه ده تاسې ته، که يئ تاسې مؤمنان (يقين لرونکي زما په نبوت) حال دا چې مصدق يم د هغه (کتاب) چې پخوا له ما (نازل شوی) دی چې تورات دی، او (بل راغلی يم تاسې ته) لپاره د دې چې حلال کړم لپاره ستاسې ځينې له هغو شيانو چې حرام کړی شوي وو په تاسې باندې.

تفسير: يعنې د «تورات» تصديق کوم، چې د پاک الله کتاب دی، او د هغه عمومي اصول او احکام پخپل حال باندې قايم پاتې دي، او د الله تعالى په حکم د دې زمانې په تناسب سره څه جزئي او فرعي تغييرات پکې کيږي، مثلا د هغه ځينې احکام چې ډېر سخت او درانه وو لري کيږي، (لکه چې په موسوي شريعت کې د خالي د ورځې تعظيم، د ماهي او د اوښ د غوښې او د وازدې تحريم چې د ٨ جزء د الأنعام سورت په (١٤٧) آيت او (١٨) رکوع کې راغلي ، هغه ورته حلال شول، نو واک (اختيار) لرئ چې د هغه نوم نسخ ږدئ ! او که تکميل؟

وَجِئْتُكُم بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿٥٠﴾

او راغلی يم تاسې ته په (هر قسم) معجزې له (طرفه د) رب ستاسې، نو وويرږئ تاسې له الله او ومنئ (وينا) زما (د الله په توحيد او زما په اطاعت کې).

تفسير: يعنې کله چې تاسې زما د صداقت دلائل وليدل، نو اوس له الله جل جلاله څخه وويرږئ ! او د هغه بندګي وکړئ ! او زما خبرې ومنئ !.

إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۗ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٥١﴾

بېشكه چې الله رب ځما دی او رب ستاسې دی؛ نو بندګي کوئ تاسې د ده ! هم دا لاره ده سمه صافه (رسوونکې مقصود ته).

تفسير: يعنې له ګردو خبرو ځنې يوه خبره، او له ګردو اصولو يو اصل هم دا دی: هغه دا چې پاک الله ومنئ ! چې زما او ستاسې يو شان رب او پالونکی دی، (او د پلار او ځوی تعلقات او نور) په کې مه پيدا کوئ ! او دهغه بندګي وکړئ ! د الهي رضا موندلو سمه لاره هم دا توحيد، تقوی، او د رسول اطاعت دی، ښايي چې تاسې پرې لاړ شئ ! چې هغه ته په ښه ډول سره ورسېږئ.

فَلَمَّا أَحَسَّ عِيسَىٰ مِنْهُمُ الْكُفْرَ

نو کله چې معلوم کړ عيسى (په محسوس ډول) له بني اسرائيلو څخه کفر (چې د مسيح د قتل اراده يې وکړه !).

تفسير: يعنې مسيح عليه السلام وپوهېده چې دغه يهودان ځما دين نه مني، بلکه ځما په دښمنۍ او ضرر رسولو پسې لوېدلي دي.

قَالَ مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ ۖ

وويل (عيسى عليه السلام چې) څوک دي مددګاران ځما په طرف (لاره) د الله کې؟.

تفسیر: یعنې ځما مله او ملګري شئ ! او دپاک الله د دین انتشار او تعمیم او ترویج کې له ما سره مدد او مرسته (تعاون) وکړئ ! او زما له انصارو ځنې شئ !.

قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنْصَارُ اللَّهِ

وویل حواریونو: مونږ یو مددګاران د (دین د) الله !

تفسیر: له الله تعالی سره مدد کول دا دي چې د هغه دین ته راشئ، او د هغه دین ومنئ، او د انبیاوو مرسته (ملګرتیا) او مدد وکړئ، لکه چې د مدیني منورې انصارو ځمونږ د محمد رسول الله صلی الله علیه وعلی آله وصحبه وسلم او د حق دین په منلو کې خپلې مرستې ښکاره کړې.

آمَنَّا بِاللَّهِ وَاشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٥٢﴾

ایمان مو راوړی دی په الله، او شاهد شه ته (ای عیسی !) په دې چې بېشکه مونږ مسلمانان یو.

تفسیر: «حواریون» کومو کسانو ته ویل کیږي؟ مشهوره داده چې لومړی هغه دوه تنه چې د عیسی علیه السلام تابعان شول، دوبیان وو، او دکالیو (جامو) وینځلو له امله به خلقو دوی ته «حواریون» ویل، عیسی علیه السلام دوی ته وویل چې: کالي وینځل پرېږدئ ! راشئ ! چې زه تاسې ته د زړه وینځل درونښیم ! دوی له ده سره ملګري شول، وروسته له دې د ده دنورو ملګرو لقب هم داسې شو.

رَبَّنَا آمَنَّا بِمَا أَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُولَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ ﴿٥٣﴾

ای ربه ځمونږ ! ایمان راوړی دی مونږ په هغه کتاب (انجیل) چې نازل کړی دی تا، او پیروي مو کړې ده د رسول (ستا عیسی علیه السلام) نو ولیکه مونږ سره له شاهدانو (په وحدانیت او رسالت).

تفسیر: وروسته له دې نه چې د رسول په مخ کې یې اقرار وکړ، د الله جل جلاله په حضور کې یې هم داسې اقرار وکړ، چې «مونږ پر انجیل باندې ایمان راوړی دی، او ستا د رسول متابعت مو هم کړی دی، نو ته پخپل فضل او توفیق او کرم سره ځمونږ نومونه د منونکو په فهرست کې ولیکه ! او ځمونږ د ایمانداری تصدیق وفرمایه، او هسې توفیق را په برخه کړه چې تل په ایمان باندې ټینګ اوسو، او ځمونږ د بیا کافر کېدلو احتمال له سره پاتې نشي».

وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ﴿٥٤﴾

او مکر وکړ کفارو (په عیسی باندې) او مکر وکړ الله، او الله خیر (بهتر) د ماکرینو دی.

تفسیر: «مکر» لطیف او خفیه تدبیر ته وایي، که دا پټ تدبیر د ښو کارونو لپاره وي، ښه دی، او که د بدو کارو لپاره وي، نو بد دی، نو ځکه په ﴿وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ﴾ کې یې له «مکر» سره «سیئ» قید زیات کړی دی، او دلته الله جل جلاله ته «خیر الماکرین» ویلی شوي دي، مطلب دا دی: یهودانو د عیسی علیه السلام په مخالفت کې راز راز پلمې (منصوبې) او سازشونه او د پټو تدبیرونو جوړول شروع کړل، تر دې چې د پاچا غوږونه یې د مسیح علیه السلام له مخالفت نه ډک کړل، او داسې یې وویل: «دا سړی معاذ الله ملحد دی، او غواړي چې «تورات» بدل کړي، او ګرد خلق د یهودانو له دین ځنې واړوي»، پاچا د مسیح علیه السلام د نیولو امر صادر کړ، هلته داسې خبرې کېدې، او دلته د الله تعالی لطیف او خفیه تدبیر د هغوی په ماتولو کې خپل کار کاوه، چې د هغه ذکر وروسته راځي، بېشکه د الله تعالی تدبیر له ګردو ځنې داسې ښه، کلک، بهتر او مضبوط دی، چې هیڅوک هغه تدبیر نشي ماتولی.

إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَىٰ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا وَجَاعِلُ الَّذِينَ اتَّبَعُوكَ فَوْقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ۖ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٥٥﴾ فَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَأُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَا لَهُمْ مِنْ نَاصِرِينَ ﴿٥٦﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورَهُمْ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴿٥٧﴾

(یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چې وویل الله: ای عیسی ! بېشکه زه اخیستونکی یم تا لره (له ځمکې) او پورته بهوونکی یم تا لره طرف ځما ته، او پاکوونکی (لرې کوونکی) یم تا لره له هغو کسانو څخه چې کافران (منکران) شوي دي او ګرزونکی یم دهغو کسانو چې متابعت یې کړی دی ستا؛ د پاسه د هغو کسانو چې کافران (منکران) شوي دي؛ تر ورځې د قیامته پورې، بیا (خاص) طرف ځما ته دی راتګ ستاسی، او زه به حکم وکړم په منځ ستاسې کې په هغه شي کې چې وئ تاسې چې په هغه کې اختلاف به مو کاوه.

نو هر هغه کسان چې کافران شوي دي، نو زه به په عذاب کړم دوی په عذاب سخت سره، په دنیا او په آخرت کې، او نه به وي دوی ته هیڅ مدد کوونکی (د عذاب په دفع کې).

او هر هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه) نو پوره به ورکړي (الله) دوی ته اجرونه (د عملونو) د دوی، او الله محبت نه کوي ظالمانو سره.

تفسیر: کله چې یهود سره را ټول شول، او د هغوی پاچا د عیسی علیه السلام د وژنې او په دار کولو فیصله وکړه، نو الله تعالی ددې په مقابل کې عیسی علیه السلام ته ډاډ ورکړ، چې دوی تاته هیڅ ضرر نشي رسولی، بلکه تا به زه روغ رمټ اسمان ته پورته کړم، او بیا به په مقرر وخت کې ښکته ځمکې ته راشې، او هغه مقصد به پوره کړې، د کوم لپاره چې ته لېږل شوی یې، او هغه څوک چې ستا پیروان دي؛ په نورو به یې سر لوړي کړم، او بیا به په اخرت کې ستاسو تر منځ په خلافي مسائلو کې فیصله وکړم.

د ﴿فَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَأُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا فِي الدُّنْيَا﴾ څخه معلومیږي، چې دا وعده په دنیا کې تر سره کیږي، او مؤمنانو ته به دنیوي او أخروي أجرونه ورکول کیږي، د «اهل السنت والجماعت» عقیده دا ده چې کله یهودو د عیسی علیه السلام د وژنې پرېکړه وکړه، نو الله تعالی هغه ژوندی اسمان ته پورته کړ، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم متواتر أحادیث په دې دلالت کوي چې کله دنیا له کفر او ظلم څخه ډکه شي، نو الله تعالی به عیسی علیه السلام د محمد صلی الله علیه وسلم په شریعت او دهغه دنفاذ لپاره دنیا ته راوه لیږي، بیا به عیسی علیه السلام دجّال او د هغه پیروان یهود مړه کوي، تر دې چې کانې او بوټې به مسلمان رابلي، چې راشه، زما تر شا یهودي پټ دی، مړ یې کړه.

عیسی علیه السلام به صلیب مات کړي، خنزیران به ووژني، او د مسلمانانو تر منځ به خلاف ورک شي، او د الله تعالی حق دین به په نړۍ کې نافذ شي.

د ﴿مُتَوَفِّيكَ﴾ په اړه د یادونې وړه ده چې «أبو البقاء الكفوي» په خپل کتاب «کلیات» کې وایي چې: «توفي» په عام استعمال کې د مړ کولو، او روح اخیستلو په معنی استعمال شوې ده، او د بلغاوو په استعمال د پوره اخیستلو په معنی دی، او «توفّي» د مړ ک په معنی هم ځکه راځي چې په مړ ک سره کوم خاص غړی نه بلکه روح له پوره بدن څخه اخیستل کیږي، لکه چې څرنګه چې د بلغاوو اصطلاح ده، نو د عیسی علیه السلام روح د بدن سره پوره آسمان ته خېژول شوی دی، خو هر کله چې داسې واقعات کم وي؛ چې روح او بدن دواړه دې الله تعالی پورته کړي، لکه د عیسی علیه السلام په شان، او په مقابل کې یې یواځې دروح اخیستل غالب وو، نو ځکه د «توفي» استعمال په مړ ک کې ډېر کیږي،

او غالبا ورسره د «موت» لفظ ذکر کیږي، لکه په: ﴿اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا﴾ (الزمر ۴۲)، دلته د توفي النفس دوه صورتونه یاد شوي دي، یو مړک، او بل خوب، همدا راز په ﴿يَتَوَفّٰكُمْ بِالَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ﴾ دلته د «توفي» اطلاق په خوب باندې شوی دی، چې د پوره روح قبض هم په کې نشته، نو له دې کبله که د «آل عمران»، او «المائدة» سورتونو په دوو آیتونو کې ((توفي)) د رفع الروح مع البدن په معنی شي، نو کوم ناشونی کار نه دی، او خصوصا همدا د جمهورو قول هم دی، او د ابن عباس رضي الله عنهما څخه په صحیح روایتونو کې ثابت دي، چې عیسی علیه السلام ژوندی اسمان ته خپړول شوی دی، او د هغه له ژوندي پورته کېدو او په آخره زمانه کې بېرته دنیا ته راتللو ځنې انکار له هیڅا سلف او خلف ځنې منقول نه دی، بلکه امام ابن حجر عسقلاني په تلخیص الحبیر کې په دې باندې اجماع نقل کړېده، او له ده څه پخوا امام ابن کثیر، او نورو د عیسی علیه السلام د نزول احادیثو ته متواتر ویلي دي.

ذٰلِكَ نَتْلُوْهُ عَلَيْكَ مِنَ الْاٰيٰتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيْمِ ﴿۵۸﴾ اِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۵۹﴾

دا (چې تېر شول) مونږ یې لولو پرتا (ای محمده !) له آیتونو او دین (یا پند یاقرآن یا لوح محفوظ) محکم څخه (چې هیڅ تغییر او تبدیل نه لري).

بېشکه مثل (صفت) د عیسی په نزد د الله په شان د مثل (صفت) د آدم دی، چې (الله) جوړ کړ هغه (آدم) له خاورو څخه بیا یې وویل ده (آدم) ته (بشر) شه ! پس (بشر) شو.

تفسیر: نصرانیانو په دې خبره ځمونږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ډېرې جګړې وکړې چې عیسی علیه السلام بنده نه دی، بلکه د الله تعالی ځوی دی، نو په آخر کې یې وویل: «که عیسی د الله ځوی نه دی نو ته ووایه چې پلار یې څوک دی؟» نو د دوی په ځواب کې دا آیت نازل شو چې آدم علیه السلام خو نه پلار درلود (لرلو) او نه مور، نو کـه اوس عیسي علیه السلام پلار نه لري، نو دا د الله جل جلاله د قدرت په مقابل کې کومه عجیبه خبره نه ده «موضح القرآن»، نو په دې حساب سره ښایي چې آدم علیه السلام ته د الله جل جلاله زوي ووایه شي، ځکه چې ستاسې په زعم دلته زورور دلائل شته، حال داچې د دې خبرې ویونکی هیڅوک نه دي.

اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۶۰﴾

حق (هغه دی چې) راغلی دی له جانبه د رب ستا (د عیسی په شان کې) نو مه کېږه له شک کوونکو څخه.

تفسیر: یعنې د مسیح علیه السلام په نسبت کومه خبره چې الله جل جلاله فرمایلې ده هغه داسې حقه ده، چې د شک او شبهې هیڅ ځای په کې نشته، او په صحیح او حقیقي خبره باندې په پوره ډول سره دوی وپوهول شو.

فَمَنْ حَآجَّكَ فِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ اَبْنَآءَنَا وَاَبْنَآءَكُمْ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمْ وَاَنْفُسَنَا وَاَنْفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَّعْنَتَ اللّٰهِ عَلَى الْكٰذِبِيْنَ ﴿۶۱﴾

نو هر څوک چې جګړه کوي له تا سره په (باره د) عیسی کې وروسته له هغه چې حاصل شو تا ته (صحیح) علم (د عیسی په بندګۍ او نبوت) نو ووایه (ای محمده ! دوی ته) راځئ ! چې راوبولو ځامن ځمونږ، او ځامن ستاسې، اوښځې ځمونږ، او ښځې ستاسې، او ځانونه خپل، او ځانونه ستاسې، بیا به التجا عاجزي وکړو (په دعا کې) نو وبه ګرځوو مونږ (وبه وایو) لعنت د الله په دروغجنانو باندې.

تفسیر: الله تعالی حکم وفرمایه: که د نجران نصرانیان سره له دومره پوهولو بیا هم ونه پوهیږي، نو له دوی سره «مباهله» وکړه ! چې د هغې لپاره داسې یو مؤثر او مکمل صورت تجویز کړی شو، چې دواړه ډلې دې له خپل اولاد سره حاضرې شي !او د زړه له کومې دې په ډېر اصرار او عاجزۍ سره داسې دعاوې وکړي: «هر یو له مونږ ځنې چې دروغ وایي په هغه باندې دې دالله تعالی لعنت او عذاب ولویږي !».

دا د «مباهلې» اقدام په اول سر کې د دې خبرې اظهار کوي چې کومه ډله تر کومې اندازې پورې په خپلو زړونو کې پخپل صداقت او حقانیت باندې باور او یقین لري؟ لکه چې د «مباهلې» د دعوت له اورېدلو ځنې وروسته د نجران جرګې مهلت واخیست، او ویې ویل چې: «مونږ په دې مورد کې مشوره سره کوو بیا به ځواب وایو»، د مشورې په معرکې کې د دوی پوهانو او تجربه کارانو وویل چې: «ای د نصرانیانو ډلې ! تاسې پخپلو زړونو کې په یقین سره پوهیږئ؛ چې دا محمد نبي مرسل دی، او مسیح علیه السلام د ده په نسبت صافې فیصلې او ښکاره خبرې کړې دي، او تاسې ته دغه خبره هم څرګنده ده، چې الله د اسماعیل علیه السلام په اولاده کې د نبي د لېږلو وعده کړې ده، او هیڅ لرې نه ده چې دا به همغه نبي وي، نو له نبي سره د کوم قوم د مباهلې او ملاعنې کولو همدا نتیجه کېدی شي چې د هغه هیڅ یو لوی او وړوکی د الله تعالی له عذاب ځنې نه خلاصیږي، او د نبي د لعنت اثر تر ډېرو نسلونو پورې پاتې کیږي.

ښه خو به دا وي چې اوس مونږ له ده سره روغه وکړو، او د خپلو کلیو په لوري بېرته لاړ شو، ځکه چې له ګردو عربو سره د جنګ کولو قوت په مونږ کې نشته».

د نجرانیانو د جرګې ګردو سړیو همدا تجویز ومانه، او ځمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لوري وررواں شول، په هم دې وخت کې محمد صلی الله علیه وعلی آله وصحبه وسلم سره له حسن، حسین، فاطمې، او علي المرتضی رضي الله تعالی عنهم اجمعین د باندې وتل.

کله چې د نجرانیانو د لوی پادري سترګې په دې نوراني صورتونو باندې ولګېدې، بې واکه یې وویل چې: «زه هسې پاک نوراني صورتونه وینم، چې د دوی په دعا به غرونه له خپل ځایونو ځنې وخوځولی شي، هسې نه چې د دوی له «مباهلې» ځنې مونږ هلاک شو، او نه چې د دوی د ښېرا له امله یو نصراني هم په ځمکه کې پاتې نشي»، بالآخر دوی مقابله پرېښوده او روغه یې سره وکړه، او کلنۍ «جزیه» یې ومنله، او صلحه یې سره وکړه، او بېرته ولاړل، د نبي صلی الله علیه وسلم حدیث دی: «که نصرانیانو «مباهله» کړي وی نو دا ګرده وادي به اور ګرځېدلې وای، او پر دوی باندې به اور اورېده، او الله تعالی به نجرانیان په کلي ډول له منځه وړي وای، او د یوه کال په منځ کې به ګرد نصرانیان مړه شوي وای».

تنبیه: لوی قرآن دا نه دي راښوولي چې وروسته له رسول الله صلی الله علیه وسلم به هم د «مباهلې» صورت اختیاراوه شي، که نه؟ او دا چې د «مباهلې» اثر به همغسې ظاهریږي لکه چې د محمد صلی الله علیه وسلم له «مباهلې» ځنې ظاهرېدونکی وو؟ د ځینو اسلافو د عمل له طریقې او د ځینو حنفي فقهاوو رحمهم الله له تصریحاتو ځنې معلومیږي چې: د «مباهلې» جواز تر اوسه پورې هم باقي دی، مګر په هغو شیانو کې چې د هغوی شرعي ثبوت بیخي قطعي وي، او دا خبره ضروري نه ده چې په «مباهلې» کې دي کوچنیان (ماشومان) او ښځې هم شاملې کړلی شي، او نه پر «مباهله» کوونکو باندې د هغه ډول عذاب راتلل ضروري وي، چې ځمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د «مباهلې» له امله راته، بلکه دا یو ډول د حجت اتمام دی، چې وروسته له هغه څخه د مناقشې ابواب تړل کیږي.

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ ۚ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ ۚ

بېشکه دا (حال د عیسی او د مریمې چې تا ته بیان شو) خامخا دا بیان حق دی او نشته هیڅ بر حق معبود مګر یواځې الله دی.

تفسیر: د «مباهلې» له بلنې څخه دا راڅرګنده شوه، چې مباهله د دې لپاره وي چې هر هغه څه چې په قرآن کې د مسیح علیه السلام په باره کې ویلي شوي دي، هغه حق او رښتیا دي، او د الله تعالی دربار له هر ډول شرک او پلار او ځویتوب او نورو تعلقاتو ځنې بیخي مبرا او پاک دی.

وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٦٢﴾

او بېشکه الله خامخا هم دې ډېر غالب قوي دی (د احکامو په انفاذ کې) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

تفسیر: پخپل کامل قدرت او حکمت سره به د رښتین او دروغجن سره همغسې معامله وکړي، چې د هر یوه له حاله سره هغه وړ او مناسبه وي.

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِالْمُفْسِدِينَ ﴿٦٣﴾

نو که وګرځېدل دوی (ایمان ته یې شا کړه او اسلامي احکام یې و نه منل) پس بېشکه الله ښه پوه دی په فساد کوونکو (نو جزا به ورکړي دوی ته).

تفسیر: که نه یې په دلائلو سره منې او نه «مباهلې» ته تیار ېږي، نو پوه شه چې د دوی مقصود د حق اثبات نه دی، او نه پخپلو زړونو کې د خپلو عقایدو پر صداقت باندې څه یقین او باور لري، یواځې فتنه او فساد خوښول د دوی مطلب دی، نو ته ښه وپوهېږه چې ګرد مفسدان د الله تعالی تر نظر لاندې دي (او بې له مجازاتو یې له سره نه پرېږدي).

قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ ۚ

ووایه (ای محمده !) چې ای اهل کتابو ! راشئ تاسې په طرف د یوې کلمې (خبرې)، چې برابره ده په منځ ځمونږ او ستاسې کې (او هغه دا ده) چې عبادت به نه کوو مګر یواځې د الله، او شریک به نه نیسو په الله پورې هیڅ شی، او نه به نیسي ځینې ځمونږ ځینې نور معبودان غیر له الله (لکه چې تاسې کتابیان احبار او رهبان نیسئ).

تفسیر: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اهل کتاب توحید او د یوه الله عبادت ته راوبلل، نو هغوی وویل چې: مونږ خو الله تعالی منو، او مسلمانان یو، نو ځکه یې ورته وویل: چې کله مونږ او تاسو په دعوا کې او د الله تعالی په منلو کې شریک یو؛ نو راځئ چې په نصوصو کې تحریف پرېږدو، او د الله تعالی څخه پرته د بل هیچا بندګي او عبادت ونکړو، او د الله تعالی سره په بندګی کې او نورو مخصوصو صفاتو کې بل شی شریک نه کړو، که هغه نبي وي، ولي وي، مرشد او پیر وي، او که فقیر وي، او دوی ته د ألوهیت حقوق او صفات ورنکړو، لکه: حلالول، حرامول، کوم چې د اهل کتابو خاص صفت وو، لکه چې الله تعالی فرمایي: ﴿اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ﴾ (د التوبه سورت، ۳۱ آیت).

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٦٤﴾

نو که وګرځېدل دوی (له توحید، او اسلامي احکامو ته يې شا واړوله) پس ووایئ تاسې (ای مؤمنانو کتابیانو ته چې) شاهدان شئ تاسې په دې چې په تحقیق مونږ مسلمانان یو (او تاسې نه یئ).

تفسیر: یعنی ای کتابیانو ! تاسو د توحید او داسلام له دعوي سره دالله تعالی ځینی غاړی غړوی، او مونږ مسلمانان الحمد لله په هغی باندی ټینګ ولاړ یو، او خپل ځانونه یو الله ته سپارو او دهغه فرمان منو، او تاسي د خپل نبی حکم نه منی.

يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تُحَاجُّونَ فِي إِبْرَاهِيمَ وَمَا أُنْزِلَتِ التَّوْرَاةُ وَالْإِنْجِيلُ إِلَّا مِنْ بَعْدِهِ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٥﴾ هَا أَنْتُمْ هَٰؤُلَاءِ حَاجَجْتُمْ فِيمَا لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَاجُّونَ فِيمَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ ۚ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٦﴾

ای اهل د کتابو ! ولې جګړه کوئ تاسې (په شان د) ابراهیم کې (په دې شان چې هر یو له تاسې يې پخپل دین ګڼئ) حال دا چې نه دی نازل کړی شوی «تورات» او «انجیل» مګر (په سلهاوو کلونو) وروسته له ده، آیا نو هیڅ عقل نه لرئ تاسې (چې داسې چتې (بېکاره) خبرې کوئ؟). خبردار شئ ! تاسې هغه کسان یئ چې جګړه مو کړې ده (له ډېره حماقته) په هغه شي کې چې وو تاسې په هغه کې څه علم، نو ولې جګړه کوئ تاسې په هغه شي کې چې نشته تاسې لره په هغه کې هیڅ علم، حال دا چې الله پوهیږي (په هغه شي هم چې تاسې په کې جګړه کوئ) او تاسې نه پوهیږئ (جاهلان یئ).

تفسیر: لکه چې په توحید او د اسلام په دعوی کې ګرد سره مشترک وو، هم داسې د ابراهیم خلیل الله علیه السلام په تعظیم او تکریم کې هم ټول سره شریکان وو، او له یهودانو او نصرانیانو ځنې هرې ډلې ببله دعوی کوله چې ابراهیم علیه السلام ځمونږ په دین وو، یعنې (معاذ الله) یهودي یا نصراني وو، ددې ځواب يې داسې ورکړ چې «تورات» او «انجیل» چې د هغو پیروانو ته یهودي او یا نصراني وایي، په سلهاوو کلونو وروسته له ابراهیم علیه السلام ځنې نازل شوی دی، نو بیا ابراهیم علیه السلام ته یهودي یا نصراني څرنګه ویلی شي؟ بلکه په دې ډول چې تاسې یهودي یا نصراني یئ، په دې وصف او معنی پخپله موسی یا عیسی علیهما السلام ته هم یهودي یا نصراني نه ویل کیږي، او که دا مطلب وي چې د ابراهیم علیه السلام شریعت ځمونږ له مذهب سره ډېر نږدې وو، نو دا هم غلطه ده، ځکه چې تاسې په دې باندې له کومه پوه شوئ؟.

دا خو ستاسې په کتابونو کې نشته، نو تاسې ولې په هغو مواردو کې جګړه کوئ؟ چې تاسې بیخي له هغو څخه ببخبره یئ، او له سره پرې نه پوهیږئ؟ الله تعالی ته ښه معلومه ده، چې ابراهیم علیه السلام څه وو؟ او نن په دنیا کې د کومې ډلې مسلک هغه ته ډېر نږدې دي؟

مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَٰكِنْ كَانَ حَنِيفًا مُسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٦٧﴾

(پاک الله د ابراهیم علیه السلام د پاکوالي په باره کې فرمایي چې) نه وو ابراهیم یهودي او نه نصراني، ولیکن وو دی حنیف (په حق ټینګ ولاړ، او له باطل څخه بېزاره) مسلمان (حکم منونکی د الله) او نه وو (ابراهیم) له مشرکانو نه.

تفسير: يعني ابراهيم عليه السلام به خپل ځان «حنيف» يا «مسلم» باله، د «حنيف» معنی دا ده چې د حق په سمه لاره باندې برابر درومي، او نورې ګردې باطلې لارې پرېږدي، او د «مسلم» معنی حکم منونکی دی، نو اوس تاسې پخپله اټکل وکړئ ! چې نن کومې ډلې له ګردو ځنې خپل غیر مشروع تعلقات شکولي (پرېکړي) دي؟ او د الله تعالی لاره يې ټينګه نيولې ده؟ او خپل ځان يې بيخي الله جل جلاله ته سپارلی دی؟ نو همغه به ابراهيم عليه السلام ته زيات اشبه او نږدې وي.

تنبيه: دلته په «مسلماً» کې د اسلام څخه خاص محمدي شريعت مرادول ضروري نه دي، ځکه چې معنی يې تش تسليم، تفويض، او فرمان منل دي، چې هغه د ګردو انبياوو دين دی، خو ابراهيم عليه السلام په دې خصوصيت سره دا نوم او لقب زيات رونړ کړی دی.

إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا ۗ

بېشکه ډېر نږدې له خلقو نه ابراهيم ته خامخا هغه کسان دي، چې متابعت يې کړی وو د ده (يعنې خپل امت يې) او دا نبي (محمد) دی، او هغه کسان دي چې ايمان يې راوړی دی (له محمدي امته).

تفسير: الله تعالی راوښوده چې له ابراهيم عليه السلام سره د ده د زمانې امت زيات مناسبت درلود (لرلو)، او په وروستنيو امتونو کې يې محمدي امت، د دغه پيغمبر امت هم په نامه او هم په دود او دستور کې له ابراهيم عليه السلام سره زيات مناسبت لري، او د دې امت پيغمبر محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم خَلْقا (په پيدايښت) خُلُقا (په عادت) صورت او سيرت کې له ابراهيم عليه السلام سره ډېر زيات شبيه دی.

وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٨﴾

او الله ولي (دوست ناصر حافظ) د مؤمنانو دی (چې له دوی سره مرستې کوي، او ښه اجر ورکوي).

تفسير: يعني د خپلې لارې په حقانيت باندې د بل موافقت او مشابهت يوائې هلته دليل راوړل کيږي، کله چې پخپله په ده باندې وحي نه راځي، نو الله جل جلاله د مسلمانانو «ولي» دی، چې دوی (مستقيما او په سمه لاره) د ده په حکم باندې درومي «موضح القرآن».

وَدَّت طَّائِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يُضِلُّونَكُمْ ۚ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّا أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٦٩﴾

دوست ګڼي هيله کوي يوه طائفه له اهل کتابو څخه د دې چې (په کوم قسم وښويوي) ګمراه کړي تاسې، او نه ګمراه کوي (په واقع کې، نه ښويوي) دوی مګر نفسونه خپل (چې عذاب او وبال يې هم دوی ته راجع کيږي) او (په دې) نه پوهيږي دوی.

تفسير: پخوا يې ويلي وو: ﴿وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ﴾ دلته يې راوښوده، لکه چې د مؤمنانو «ولي» الله تعالی دی، نو ستاسې مکر او پلمې (منصوبې) پر دوی باندې هيڅ نشي چلېدی، بېشکه چې ځينې کتابيان غواړي چې د خپلو ځانونو په شان مسلمانان هم له سمې لارې ځنې واړوي، خو مسلمانان د دوی په جال کې نه نښلي، هو ! دغه خلق خامخا پخپله ګمراهي او وبال کې زيادت کوي، او د دوی د دې اغوا کوونکو کوښښونو ضرر هم دوی ته بېرته ور رسيدونکی دی، چې په هغه باندې دوی اوس نه پوهيږي.

يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿٧٠﴾

ای اهل کتابو ! ولې کافران (منکران) کیږئ تاسې په آیتونو د الله (قرآن) باندې حال دا چې تاسې شاهدان یئ (اقرار کوئ په حقانیت د کلام الله او نعمت د رسول الله).

تفسیر: یعنې تاسې په «تورات» او نورو باندې قائلان یئ ! چې په هغو کې د «محمد صلی الله علیه وسلم» او دلوی قرآن په نسبت بشارتونه او زیري شته، او په هغو باندې تاسې ښه خبر یئ، او په پټو مرکو کې تاسې پر دې شیانو باندې اقرار او تصدیق هم کوئ ! نو بیا ظاهرا او په ښکاره ډول ولې له هغو ځنې مخالفت کوئ؟ او پر پاک قرآن باندې ولې ایمان نه راوړئ؟ او د خاتم الأنبیاء تصدیق د څه لپاره نه کوئ؟ ښه وپوهیږئ چې له قرآن عظیم الشأن ځنې انکار په حقیقت کې له ټولو پخوانیو اسماني کتابونو ځنې انکار دی.

يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تَلْبِسُونَ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٧١﴾

ای اهل کتابو ! ولې ګډوئ تاسې حق له باطلو (خپل دروغ له رښتیا آسماني کتابونو) سره؟ او پټوئ تاسې حق (د محمد نبوت) حال دا چې تاسې پوهیږئ (په دې خلطولو او پټولو).

تفسیر: دوی د «تورات» ځینې حکمونه د دنیوي غرضونو او مالونو له امله بیخي لغوه کړي وو، په ځینو آیاتو کې یې لفظي تحریفات او د ځینو معنی یې بدله کړې، او ځینې شیان یې لکه د آخر الزمان نبي صلی الله علیه وسلم بشارتونه بیخي پټ کړي وو، او څوک یې پرې نه خبرول.

وَقَالَت طَّائِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمِنُوا بِالَّذِي أُنزِلَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوا آخِرَهُ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٧٢﴾

او وویل یوې طائفې له اهل کتابو (بلې طائفې ته) چې ایمان راوړئ په هغه (قرآن) ! چې نازل کړی شوی دی په هغو کسانو چې مؤمنان دي، (یعنې ای کتابیانو ایمان راوړئ) په اول د ورځې کې او کافران شئ (ای کتابیانو بیا) په آخر د ورځې کې؛ لپاره د دې چې دوی (یعنې مؤمنان هم لکه کتابیان) (له ایمانه) وګرځي.

تفسیر: په دې آیت کې د کتابیانو د چالاکیو او د خیانتونو ذکر کیږي، چې یو له هغو ځنې دا وو، چې د دوی ځینې سړي د ګهیځ (سهار) په وخت کې په ښکاره ډول سره مسلمانېدل، او له مسلمانانو سره به یې لمونځونه کول، او د ماښام په وخت کې به یې ویل: «مونږ له خپلو لویو علماوو ځنې تحقیق کړی دی، چې دا هغه رسول نه دی چې زېرې یې راکړی شوی دی، او د تجربې له مخې هم د ده حالات د اهل الحق په شان را څرګند نه شول، نو ځکه له اسلامه ځنې بېرته اوړو».

ښکاره ده چې نتیجه به داوی چې د هسې اوضاعو له امله به نور ډېر ضعیف الایمان کسان هم بېرته واوړي، او داسې به وګڼي چې ضرور به د اسلام په دین کې دوی څه نه څه عیب او نقص لیدلی وي، چې دې خلقو وروسته د هغه له منلو ځنې له هغه ځخه مخ واړاوه، او هم د عربو په جاهلانو کې د کتابیانو د علم او فضل لوی شهرت وو، نو ځکه داسې یو خیال هم پیدا کېده، چې که دا نوی مذهب حق وای، نو داسې پوهانو به غاړه تري نه غړوله، بلکه له ګردو ځنې به یې پخوا هغه مانه.

وَلَا تُؤْمِنُوٓا إِلَّا لِمَن تَبِعَ دِينَكُمْ

اومه منئ تاسې (ای کتابیانو د هیڅا) مګر د هغه چا چې متابعت یې کړی وي د دین ستاسې (چې یهودیت دی).

تفسیر: یعنې هغه یهودان چې مسلمانانو ته د نفاق په ډول خپل ځانونه مسلمانان څرګندوي، دوی ته دې دا ښه معلومه وي، چې هغوی په رښتیا مسلمانان شوي نه دي، بلکه همغسې یهودان دي، او په اخلاص سره د هغو یهودانو خبرې اوري؛ چې د هغوی په دین باندې رهي (روان) دي، او د موسوي شریعت د اتباع دعوی کوونکي دي.

ځینو د ﴿وَلَا تُؤْمِنُوٓا إِلَّا لِمَن تَبِعَ دِينَكُمْ﴾ معنی داسې کړې ده چې: «په ظاهري ډول سره تاسې ایمان راوړئ ! او خپل ځان مسلمان ښکاره کړئ ! دا دې یواځې د هغو خلقو لپاره وي چې ستاسې پر دین باندې تګ کوي»، یعنې په دې تدبیر سره ښایي د خپلو هم مذهبانو ساتنه مو مقصود وي، چې دوی مسلمانان نشي، یا هغه کسان چې مسلمانان شوي، په دې چل او تدبیر سره بېرته مرتدان شي.

قُلْ إِنَّ الْهُدَىٰ هُدَى اللَّهِ

(فرمایي الله چې ای محمده دوی ته) ووایه: بېشکه هدایت (حق دین) همدا هدایت د الله (اسلامي دین دی).

تفسیر: یعنې هدایت خو د الله تعالی په ورکولو سره مونده کیږي، د هر چا په زړه کې چې الله تعالی د هدایت رڼا واچوي، هغه ستاسې په هسې چلونو او فریبونو نه ګمراه کیږي.

أَن يُؤْتَىٰٓ أَحَدٌ مِّثْلَ مَآ أُوتِيتُمْ أَوْ يُحَآجُّوكُمْ عِندَ رَبِّكُمْ

او دا (تدبیرونه ستاسې ای کتابیانو د حسد له مخې دي، په دې) چې ولې ورکړی شي یو چا ته په مثل د هغو (فضائلو) چې در کړی شوي دي تاسې ته، او (لپاره د بد ګڼلو د دې خبرې چې مؤمنان) حجت قائم کړي، او غالب شي پر تاسې په نزد د رب ستاسې (د حجت له مخې).

تفسیر: یعنې هسې مکرونه او تدبیرونه یواځې د حسد له امله کوئ، هغه دا چې نورو ته داسې شریعت او نبوت او رسالت ولې ورکول کیږي؟ لکه چې پخوا دوی ته ورکړی شوی وو، یا په مذهبي او دیني جد او جهد کې نور خلق ولې پر تاسې باندې غالب او وړاندې ځي؟ او د الله تعالی په مخکې تاسې ملزم کوي.

یهودانو تل داسې خیالات شائع کول چې «په دنیا کې یواځې هم دا ځمونږ قوم د شرعي علومو اجاره داران دي، «تورات» پر مونږ باندې رانازل شوی دی، موسی علیه السلام غوندې یو أولوا العزم نبي په مونږ کې مبعوث شوی دی، نو د عربو امیانو له دې فضل او کمال سره څه تناسب لري؟».

مګر د «تورات» د (سفر استثناء) هغه عظیم الشأنه پخوانۍ وینا نشي غلطېدی چې په هغې کې دا رابنوولي شوي وو چې الله تعالی به د بني اسرائیلو په ورونو بني اسماعیلو کې موسی علیه السلام غوندې د مستقل شریعت خاوند یو نبي راولیږي، او خپل کلام لوی قرآن به د هغه په خوله کې واچوي ﴿إِنَّآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَٰهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا﴾ (۲۹ جزء د المزمل سورت ۱۵ آیت، ۱ رکوع) لکه چې بني اسماعیلو ته دا لوي دولت ور په برخه هم شو، او دوی د علم، فضل، حجت، برهان، او د مذهبي جد او جهد په میدان کې نه یواځې له بني اسرائیلو ځنې، بلکه له ټولو نړیوالو ځنې وړاندې تللي دي، فالحمد لله علی ذلک.

قُلْ إِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَن يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾

ووايه (ای محمده !) چې بېشکه فضل (علم او حکمت) د الله په لاس کې دی، ورکوي يې هغه چا ته چې اراده يې وکړي، او الله پراخ دی (رحمت، فضل، او احسان د ده)، ښه عالم دی (د احسان په اهل هم). خاصوي په مهربانۍ خپلې (چې اسلام يا قرآن يا نبوت دی) هغه څوک چې اراده وکړي، او الله څښتن د فضل (مهربانۍ) ډېرې لويې دی (پر مؤمنانو باندې).

وَمِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مَنْ إِن تَأْمَنْهُ بِقِنطَارٍ يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ ۖ وَمِنْهُم مَّنْ إِن تَأْمَنْهُ بِدِينَارٍ لَّا يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ إِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَائِمًا ۗ

او ځينې له اهل کتابو څخه هغه څوک دي، که امين کړې ته دې په ډېر مال باندې، نو بېرته به وسپاري دا (مال) تاته، او ځينې له دوی څخه هغه دي، که امين کړې ته هغه په يوه دينار باندې، نو اداء به نه کړي دې دا دينار تاته، مګر که يې ته همېشه په ده ولاړ (لپاره د غوښتلو).

تفسير: د اهل کتابو د ديني خيانت او نفاق په سلسله کې د دنيوي خيانت ذکر هم راغی، چې له هغه ځنې دا خبره هم راڅرګندېږي، هغه کسان چې د لږ شي له امله خپل نيتونه خرابوي، او د امانتدارۍ رعايت نه کوي، نو له دوی ځنې څرنګه داسې هيله اوتوقع کېدی شي، چې په ديني معاملاتو کې امين ثابت شي، په دوې کې ډېر داسې کسان شته دي، چې که له هغو سره زيات مال لا څه؟ که يو دينار په اندازه طلا هم امانته کېښوده شي، نو لږ موده وروسته پرې منکرېږي، او تر څو چې څوک د غوښتلو او تقاضا لپاره هر وخت د دوی په سر باندې ولاړ نه وي، نه يې ادا کوي.

مګر په دې کې شک نشته، چې دوی ټول سره يو شان نه دي، په دوی کې ځينې داسې کسان هم شته، که له هغوی سره د سرو زرو يوه لويه ډېرې هم کېښوده شي، نو يو بخرکی به هم ترې خيانت نه کړي، خو هم دا ښه معامله داران او امين کسان دي چې له يهوديت ځنې بېزار کيږي، او د اسلام په دائره کې ننوځي، لکه (عبد الله بن سلام) او نور رضي الله تعالى عنهم أجمعين.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْأُمِّيِّينَ سَبِيلٌ ۚ

دغه (په امانت کې خيانت) په سبب د دې دی، چې بېشکه دوی (کتابيانو) وويل: نشته پر مونږ باندې په (حق) د دې اميانو کې هيڅ ګناه (چې مالونه يې وخورو).

تفسير: يعنې د پردې د حق خوړلو لپاره يې دا مسئله جوړه کړېده، چې «د عربي اميانو د مالونو خوړل چې ځمونږ په دين کې نه دي داخل، په هر ډول سره چې ځمونږ لاس ته راشي؛ روا دي، که د نورو مذاهبو په امانت مال کې خيانت وکړ شي، نو په هغه کې هم هيڅ ګناه نشته، مخصوصا هغه عرب چې د خپلو پلرونو له دين څخه ګرځيدلي او مسلمانان شوي دي، الله تعالى د هغوی مال مونږ ته حلال ګرځولی دی»، نو الله «جل وعلا شأنه» د دغو کتابيانو عتاب کې چې د داسې شيانو نسبت الله جل جلاله ته کوي، داسې فرمايي:

وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾

او وايي دوی (کتابيان) پر الله باندې دروغ (په دې دعوی کې) حال دا چې دوی پوهيږي (پخپلو دغو دروغو ترلو باندې).

تفسير: يعني سره له پوهې په قصد سره دروغ خبرې الله جل جلاله ته منسوبوي، په امانت کې د خيانت کولو اجازه هيڅکله الله تعالى نه ده فرمايلې، نن هم ځمونږ د فقهي کتابونو مسئله همدا ده چې: «نه د مسلمان او نه د کافر په امانت کې خيانت جائز دی»، (بيا الله تعالى فرمايي):

بَلٰى مَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ وَاتَّقٰى فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۷۶﴾

(ولې نشته عذاب) بلکه شته ! هو هر څوک چې وفا وکړي په عهد خپل (چې ايمان په نبي او د امانتونو ادا کول دي) او پرهېزګاري وکړي (ځان وساتي له کفر او خيانته) نو بېشکه الله مينه او محبت کوي پرهېزګارانو سره.

اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَاَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا اُولٰٓئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَلَا يَنْظُرُ اِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۷۷﴾

بېشکه هغه کسان چې اخلي دوی په عهد د الله باندې (چې ايمان په نبي او اداء د امانت دی) او په (دروغو) قسمونو خپلو باندې قيمت لږ (دنيوي، د هغه د نه منلو په عوض)، دغه کسان نشته هيڅ برخه د دوی لپاره په آخرت کې، او نه به خبرې وکړي له دوی سره الله (په خوښۍ) او نه به وګوري دوی ته (الله په رحم سره) په ورځې د قيامت کې، او نه به پاک کړي دوی (الله له کفره) او (شته) دوی ته عذاب دردناک (په سبب د دغو بدو افعالو د دوی).

تفسير: دا د يهودانو صفت وو چې «الله تعالى له دوی ځنې اقرار اخيستی وو، او دوی ته يې قسمونه ورکړي وو، چې له هر نبي سره به مرستې کوي !» بيا دوی د دنيوي مقاصدو له امله له هغه ځنې واوښتل، او هر هغه څوک چې د دنيوي ګټې اخيستلو لپاره په دروغو قسمونه خوري؛ د ده حال هم دا دی.

وَاِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيْقًا يَّلْوٗنَ اَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتٰبِ لِتَحْسَبُوْهُ مِنَ الْكِتٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتٰبِ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ

او بېشکه ځينې له دوی څخه خامخا يو فريق دی، چې اړوي دوی ژبې خپلې په (لوستلو د) کتاب کې لپاره ددې چې وګڼئ تاسې دا (محرف عبارتونه) له کتاب (حق منزّل نه) حال دا چې نه دي (دا محرف عبارتونه) له کتاب (منزل) څخه، او وايي دوی چې دا (محرف عبارتونه) له (جانبه د) الله دي، حال دا چې نه دي دا (محرف عبارتونه) له (جانبه د) الله.

تفسير: يعني په اسماني کتاب کې يې ددغسې شيانو زيادت او حذف وکړ، او هغی ته به يې بيا دالله کلام ويلو او عوام به يې ورباندې تير ايستل، خو دوئ پخپله هم دا تحريف شوی کتاب په مجموعي هيئت دالله تعالى کتاب نه ګڼله ځکه په هغی کې يې قسم قسم تصرفات کړی وو، د (بايبل، انجيل) نسخې چې نن ورځ په دنيا کې شته، د هغوی په منځ کې هم داسې شديد اختلافات موندل کيږي، چې سړی ورته حق حيران پاتې کيږي، او داسې مضامين هم په کې لوستل کيږي چې سړی له واره پرې پوهيږي؛ چې دا هيڅکله د الله تعالى له جانبه نه دي نازل شوي.

وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾ مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُؤْتِيَهُ اللَّهُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا عِبَادًا لِي مِنْ دُونِ اللَّهِ

او وايي دوی (يعني کتابيان) په الله باندې دورغ، حال دا چې پوهيږي دوی (پخپلو دروغ ويلو). نه ښايي هيڅ بشر ته چې ورکړی ده ته الله کتاب او حکمت (شرعي احکام او سنت) او نبوت، بيا ووايي خلقو ته چې: شئ تاسې بندګان (عبادت کوونکي) ما لره بې له الله ځخه.

تفسير: د (نجران) د جرګې د خبرو او اترو په ترڅ کې ځينو يهوديانو او نصرانيانو ويلي وو: «ای محمده ! آيا تاسې دا غواړئ چې مونږ ستاسې همغسې عبادت وکړو، لکه چې نصرانيان د عيسى بن مريم عليه السلام عبادت کوي؟» رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «معاذ الله چې مونږ د غير الله عبادت وکړو، يا نورو ته د هسې کارونو دعوت ورکړو، حق تعالى مونږ د دې کار لپاره نه يو رالېږلي»، نو د دې خبرې په نسبت دا آيت نازل شو.

يعني هر هغه بشر ته چې حق تعالى کتاب او حکمت او د فيصلې قوت ورکړي، او د رسالت په منصب باندې يې سر لوړی وګرځوي، چې دې په ډېر ښه ډول سره د الله تعالى پيغام نورو خلقو ته ورسوي، او د بندګۍ او د وفادارۍ په طرف يې متوجه کړي، د هغه کار هيڅکله داسې نشي کېدى، چې خلق د الله تعالى له خالصه بندګۍ ځنې واړوي، او د خپل ځان يا د بل کوم مخلوق بندګۍ ته يې وبلي.

له همدې ځايه د انبياوو د عصمت مسئله څرګندېږي «كما نبه عليه أبو حيان رحمه الله في البحر».

کله چې انبياء عليهم السلام له ادنى عصيان ځنې هم پاک دي، نو بيا د شرک او د پاک الله په مقابل کې د بغاوت امکان چېرې پاتې کيږي؟ له دې ځنې د نصرانيانو د هغې دعوى تردید هم وشو، چې ويل به يې: «د مسيح عليه السلام د ابنيت او د ألوهيت عقيده مونږ ته پخپله مسيح عليه السلام رابسوولي ده»، او هغو مسلمانانو ته هم نصيحت وکړل شو، چې هغوی د رسول الله مبارک حضور ته عرض کړی وو، چې مونږ ته اجازه راکړئ ! چې د سلام اچولو په ځای تاسې ته سجده وکړو، او پر کتابيانو باندې هم تعريض وشو، چې هغوی خپلو احبارو او رهبانو ته د ألوهيت درجه ورکوله، العياذ بالله.

تنبيه: په ﴿مَا كَانَ لِبَشَرٍ﴾ الآيه - کې د أبو حيان «رحمه الله» په نزد هم داسې نفي ده، لکه چې په ﴿مَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُنْبِتُوا شَجَرَهَا﴾ کې، يا په ﴿وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ﴾ کې ده، وهو أصوب عندي (يعني نفي د امکان).

وَلَكِنْ كُونُوا رَبَّانِيِّينَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتَابَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُونَ ﴿٧٩﴾

وليکن (وايي چې) شئ تاسې عالمان عاملان په سبب د دې چې يئ تاسې چې ښوونه کوئ (خلقو ته) کتاب (شرعي أحکام) او په سبب د دې چې يئ تاسې چې تدريس کوئ (او درس اخلئ، پخپله دا کتاب لولئ، او نورو ته يې هم لولوئ).

تفسير: يعني: «هر هغه څوک چې د الله تعالى له جانبه په نبوت سره وستايل شي، او دې خلق له کفر او شرک ځنې راباسي، او د مسلمانۍ په لوري يې راولي، نو بيا به دې څرنګه هغو ته کفر ورزده کوي؟ هو ! تاسې ته (ای کتابيانو) داسې ويل کيږي، چې له تاسې ځنې هغه کسان چې پخوا له دې نه ديندار وو، اوس د هغوی په شان ديندار او د کتاب لوستونکي او زده کوونکي نه دي پاتې، او زما په صحبت کې اوس ممکن دي چې همغه کمال بيا حاصل کړئ ! او عالم، حکيم، فقيه، مدبر، عارف، متقي، او ښه الله پرست شئ !، او دا شرف تاسې ته د لوی قرآن له لوستلو او لولولو او پوهېدلو ځخه په لاس درتلى شي.

وَلَا يَأْمُرَكُمْ أَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلَائِكَةَ وَالنَّبِيِّينَ أَرْبَابًا ۗ

او نه کوي امر تاسې ته (الله یا نبي) د دې چې ونیسئ تاسې پرښتې او انبیاء معبودان.

تفسیر: لکه چې نصرانیانو مسیح علیه السلام او روح القدس علیه السلام ته او ځینو یهودانو عُزیر علیه السلام ته او ځینو مشرکینو پرښتو ته معبودان ویل، هر کله چې پرښتې او رسولان له الله جل جلاله سره په عبادت کې نشي شریکېدی، نو تیرې، صلیب اونور په کوم شمېر کې راځي.

أَيَأْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ﴿٨٠﴾

آیا امر کوي (الله یا نبي) تاسې ته په کفر سره، وروسته له دې نه چې یئ تاسې مسلمانان (غاړه ایښودونکي شرعي احکامو ته).

تفسیر: یعنې لومړی نبیانو کوښښ وکړ چې خلق رباني د الله خاص بندګان، موحدین، او مسلمانان وګرځوي، هر کله چې خلقو هغه ومانه، نو آیا هغوی بیا دوی د کفر او شرک په لوري بیایي، او خپل زیار (کوښښ) او ګرد زحمتونه په خپلو لاسونو سره ابته او بربادوي، دا خبره فهم ته نشي راتلی.

وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُمْ مِنْ كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنْصُرُنَّهُ ۚ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِي ۖ قَالُوا أَقْرَرْنَا ۚ قَالَ فَاشْهَدُوا وَأَنَا مَعَكُمْ مِنَ الشَّاهِدِينَ ﴿٨١﴾

او (یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چې واخیست الله عهد محکم له ټولو انبیاوو چې خامخا هغه شی چې درکړم زه تاسې ته، چې هغه کتاب او حکمت (شرعي احکام او سنت) دی، بیا راشي تاسې ته رسول (محمد)، چې مصدق (رښتیا کوونکی) دی د هغه کتاب چې له تاسې سره دی، نو هرومرو به ایمان راوړئ تاسې خامخا په هغه، او هرومرو مدد به کوئ تاسې خامخا ورسره، وویل (الله دوی ته): آیا اقرار وکړ تاسې په دغه (ایمان او نصرت) او واخیسته (قبوله کړه) تاسې پر دې (ایمان او نصرت) ټینګه وعده ځما؟ وویل دوی: اقرار وکړ مونږ (په دې)، وفرمایل (الله): نو تاسې شاهدان اوسئ (پخپل نفس او اتباعو) او زه هم له تاسې سره له شاهدانو ځنې یم (پر تاسې او په هغوی باندې په دې اقرار کې).

تفسیر: یعنې هیڅ یو نبي د خپلې بندګۍ تعلیم نشي ورکولی، بلکه د یوه الله جل جلاله بندګي ورښیي، هو ! رسولانو ته دا حق شته چې خلق دې پر دوی باندې هم ایمان راوړي، او د دوی خبرو ته دې غوږ کېږدي، او له دوی سره دې هر راز مرستې (مدد) وکړي، عام خلق لا څه بلکه الله تعالی له خپلو انبیاوو علیهم السلام ځنې هم داسې ټینګ عهد او پیمان اخیستی دي؛ چې هر کله له تاسې ځنې وروسته کوم نبي راشي، چې یقینا د پخوانیو انبیاوو علیهم السلام او د هغو د کتابونو به په اجمال یا په تفصیل سره تصدیق کوي، نو ضروري خبره ده، چې لومړی نبي دې د وروستني نبي پر صداقت باندې ایمان راوړي، او د هغه مرسته دې وکړي !، که عمر یې د هغه زمانې ته ورسېږي، نو بالذات پخپله او که نه خپل امت ته دې پوره هدایت ورکړي، چې په وروستني راتلونکي نبي باندې هرومرو ایمان راوړئ، او د هغه نصرت او اعانت وکړئ، ځکه چې داسې وصیت کول، هم د هغه په مرسته کې داخل دی.

له دې عامې قاعدې ځنې د سپېنې ورځې په شان ښکاره ده، چې ځمونږ په خاتم الأنبياء محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې ايمان راوړل او د هغوی د مدد کولو عهد به بلا استثناء له ګردو پخوانيو انبياوو عليهم السلام ځنې اخيستی شوی وي، او دوی له خپلو امتيانو ځنې دا قول او اقرار اخيستی دی.

فَمَنْ تَوَلّٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٨٢﴾

نو هر څوک چې ښېرته وګرځېد وروسته له دې (د ايمان او نصرت له عهده) نو دغه (شا ګرځوونکي کسان) هم دوی فاسقان دي (چې عهد ته يې شا کړې ده).

اَفَغَيْرَ دِيْنِ اللّٰهِ يَبْغُوْنَ وَلَهٗٓ اَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا

آيا نو غير له دين د الله ځنې غواړي (دوی بل دين) حال دا چې (خاص) الله ته غاړه ايښې ده، هر هغه څه چې په آسمانونو کې دي (له علوياتو) او په ځمکه کې دي (له سفلياتو، سره له آسمانونو او ځمکو) په خوښه يا په زوره.

تفسير: يعنې هر کله چې د حق تعالى کوم حکم د صادق القول ربښتين رسول په وسيله تاسې ته در ورسېږي، د هغه په مقابل کې غاړه کېږدئ ! نو اوس کوم احکام او هدايات چې سيد المرسلين خاتم النبيين محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم راوړي دي، هغه هم د الله تعالى دين دی، آيا تاسې هغه پرېږدئ؟ او د نجات او فلاح بله کومه لاره لټوئ؟.

بنيادم ته نه ښايي چې پخپل شوق، مينه، رغبت، او خوښۍ سره د هغه پاک الله له احکامو څخه غاړه وغړوي، چې د هغه د تکويني حکم لاندې آسمان او ځمکه او ګرد موجودات دي، او د هغه دحکم په اثر موجود شوي دي، عام له دې نه چې هغه تکويني حکم د مخلوقاتو په اراده او خوښې سره وي، لکه د پرښتو او فرمان منونکو بندګانو په اطاعت کې، يا په مجبورۍ او ناچارۍ سره وي، لکه د دنيا په ذره ذره کې د هغو آثارو او حوادثو ظهور چې د هغوی وقوع او ظهور د مخلوق له مشيئت او ارادې ځنې پرته وي، او يوائې د پاک الله د احکامو او مشيئت او ارادو تابع وي.

وَّاِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ﴿٨٣﴾

او بيا (خاص) همدې الله تعالى ته ښېرته بيولي کيږي (د اټول خلق د مجازاتو لپاره، نو ښايي چې ټول هدايت او اسلام ځانته غوره کړي).

تفسير: د ګردو لومړنيو او وروستنيو ورتګ د همغه پاک الله په لوري دی، نو عقلمن ته ښايي چې له پخوا څخه خپل ځان تيار کړي ! او تل د الله تعالى په اطاعت اوعبادت کې مصروف اوسي ! که نه په آخرت کې به بې مخه، مايوسه، شرمنده، او ټيټ سترګی وي.

قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَالنَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿٨٤﴾

ووايه (اى محمده ! کتابيانو ته چې) ايمان راوړی دی مونږ په الله، او په هغه کتاب چې نازل کړی شوی دی پر مونږ (چې قرآن دی) او پر هغو (صحيفو) چې نازلې کړی شوي دي پر ابراهيم او (پر) اسماعيل او (پر) اسحاق او (پر) يعقوب او (پر) اولاده (د دوی) باندې، او (پر) هغو چې ورکړی شوي دي موسى ته (چې تورات دی)، او عيسى ته (چې انجيل دی)، او نورو انبياوو ته

(چې نور آيتونه دي)؛ له (جانبه د) رب د دوی، (حال دا چې) نه کوو فرق په منځ د هيڅ يوه د دوی (په نبوت او نه نبوت کې، او داسې نه کوو چې ځينې به منو او ځينې به نه منو) او مونږ (خاص) الله ته غاړه ايښودونکي يو.

تفسير: يعنې هر هغه څه چې په هره زمانه کې د الله تعالى له جانبه نازل شوي، يا کوم رسول ته ورکړی شوي دي، مونږ هغه ګرد بلا تفريق منو، دا خبره د يوه حکم منونکي مسلم له وصف او شان ځنې لرې ده، چې لکه کتابيان ځينې رسولان ومني، او ځينې ونه مني.

ګواکې په آخر کې يې د ﴿وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ﴾ له ويلو څخه د اسلام حقيقت راوښود، او خبر يې راکړ چې اسلام د هيڅ يوه حقاني رسول او د هيڅ يو آسماني کتاب تکذيب نه کوي، بلکه ګرد شرعي احکام په ډېر محبت او اهتمام سره قبلوي، او د اسلام په نزد ځرنګه چې د لوی قرآن او د عربي نبي عليه السلام نه منل کفر دی، هم داسې له بل کوم نبي عليه السلام او آسماني کتاب ځنې انکار کول هم کفر دی.

بېشکه د نبي آخر الزمان صلى الله عليه وسلم شان ښايي چې هم داسې وي؛ چې دې د ګردو پخوانيو کتابونو او رسولانو مصدق شي، او په دې ډول سره هغه ګردو اقوامو ته چې د دوی لپاره محلي او مقامي (نذير) او (هادي) راغلی وو، د «جمعية الكبرى» تر لويې جنډې لاندې دجمع کېدلو لاره وروښيي.

تنبيه: همداسې يو مضمون په اول جزء د «البقرة» سورت په (۱۳۶) آيت ۱۶ رکوع کې تېر شوی دی، ښايي چې دلته دې هم له همغه څخه استفاده وشي.

وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ ۚ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۸۵﴾

او هر څوک چې غواړي غير له اسلامه (چې توحيد او د الله احکامو ته انقياد دی) بل دين، نو له سره به ونه منل شي له ده نه، حال دا چې وي به دی په آخرت کې له زيانکارانو (چې د اسلام د پرېښودلو په سبب به تل په دوزخ کې پاتې کېږي).

تفسير: يعنې هر کله چې د الله جل جلاله دين «اسلام» پخپل مکمل صورت سره راورسېد، نو وروسته له هغه هيڅ څوک کوم د دروغو يا نا مکمل دين نشي منلی، د لمر د راختلو څخه وروسته د تيلې، ډېوې، يا ګيس لګول يا د برېښنا او د ستوري د رڼا لټول چټي کار او ناپوهي ده، د محلي نبيانو د هدايت رڼا تېره شوه، اوس له ګردو ځنې لوی او وروستني او عالمګير نبوت او هدايت څخه رڼا اخيستل په کار دي.

كَيْفَ يَهْدِي اللّٰهُ قَوْمًا كَفَرُوْا بَعْدَ إِيْمَانِهِمْ وَشَهِدُوْا أَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ وَّجَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ۚ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۶﴾

څرنګه به سمه صافه لار وښيي الله (بلکه نه ښيي هغه) قوم ته چې کافران شوي دي وروسته له ايمان راوړلو د دوئ، حال دا چې شاهدي ورکړې ده دوی په دې چې بېشکه رسول حق دی، او راغلي دي دوی ته معجزې ښکاره، او الله نه کوي هدايت (نه ښيي سمه صافه لاره) قوم ظالمانو ته (چې اسلام په کفر بدلوي).

تفسير: يعنې هغه کسان چې د حق له ښکاره کېدو څخه وروسته سره له پوهې کفر اختيار کړي، يعنې په زړه کې يقين لري، او په ستر ګو يې ګوري، بلکه پخپلو خاصو مرکو (جرګو) کې اقرار کوي چې؛ دا رسول رښتين دی، د ده

د حقانیت او صداقت روښانه دلیلونه، ښکاره علامې، او څرګند زیري دوی ته رسېدلي دي، خو سره له هغه هم کبر، حسد، حب د جاه او مال او نو ر د اسلام له منلو ځنې د دوی مخه نیسي، او د کفر او عدوان له پرېښودلو څخه مانع کیږي، لکه چې د یهودیانو او نصرانیانو هم دا حال وو، له هسې معاندینو ځنې چې سرزوري او ضدیت لري؛ څه توقع او هیله کېدی شي، چې سره له هسې رویې به دوی ته د الله تعالی له خوا نجات او فلاح ور په برخه کیږي؟ او دوی به په هسې لاره باندې بیایي چې دی ترې خوښ او دوی جنت ته رسوي؟

أُولَٰئِكَ جَزَاؤُهُمْ أَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿٨٧﴾

دغه کسان جزا د دوی دا ده چې بېشکه پر دوی دی لعنت د الله (چې لرې کوي دوی له رحمت خپل) او (لعنت) د پرښتو او (لعنت) د خلقو د ټولو (مخلوقاتو).

تفسیر: یعنې الله تعالی، پرښتې، او مسلمانان ګرد لعنت پرې وایي، بلکه هر انسان حتی پخپله دغه ملعونان هم پر خپل ځان باندې لعنت وایي، یعنې کوم وخت چې دوی داسې وایي: «پر ظالمانو او دروغ ویونکو باندې دې د الله لعنت وي !» اګر که دوی په هغه وخت کې په دې باندې نه پوهیږي، چې دا لعنت پخپله پر دوی باندې هم واقع کیږي.

خَالِدِينَ فِيهَا ۖ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿٨٨﴾ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٨٩﴾

حال دا چې تل به وي دوی په دغه (لعنت یا اور یا عقوبت) کې، نه به سپکولی شي له دوی ځنې عذاب (د دوزخ)، او نه به دوی ته مهلت ورکړ شي، (د توبې، یا به نه کتلی کیږي دوی ته په رحمت سره). مګر هغه کسان چې توبه یې وکښله (بېرته اسلام ته راوګرځېدل) وروسته له دې (ارتداده)، او نېک یې کړل (عملونه خپل)، نو بېشکه الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا لَنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الضَّالُّونَ ﴿٩٠﴾

بېشکه هغه کسان (له یهودو) چې کافران شوي دي (په انجیل او عیسی) وروسته له ایمان راوړلو د دوی (په تورات او موسی)، بیا یې زیاتوالی وکړ په کفر کې (په نه منلو د قرآن او محمد)؛ له سره به نه قبلیږي توبه د دوی (چې دوی توبه ونه کړي تر غرغرې پورې)، او دغه کسان هم دوی ګمراهان دي.

تفسیر: یعنې هغه کسان سره له دې چې په حق پوهیږي، او بیا په قصد سره ترې منکران شوي دي، اوتر آخره پورې په همغه انکار کې ترقي او پرمختګ کوي، نه له کفر ځنې د مخ ګرځولو نوم اخلي، او نه د حق او د اهل حق له عداوته څخه لاس نیسي، بلکه حق خوښوونکو سره بحث، مناظره، جنګ او جنجال کوي، او کله چې د مرګ وخت ورسیږي، او پرښته د دوی سا راکاږي، دلته نو د توبې په فکر کې ولویږي.

یا کله د کوم شخصي مصلحت له امله په ښکاره ډول او په رسمي صورت سره توبه کوي، یا په کفر باندې پوره ټینګ ولاړ وي، خو له ځینو هغو اعمالو ځنې توبه وباسي چې دې یې پخپل زعم سره ګناه ګڼي، نو له دغې توبې څخه هیڅ ګټه نه اخیستله کیږي، او نه د الله جل جلاله په دربار کې د هغې د منلو امید او انتظار کیږي، او داسې خلقو ته په رښتیا سره هسې توبه نه ور په برخه کیږي، چې د قبلولو وړ وي، تل تر تله د دوی کار: د ګمراهۍ په بیدیا (صحرا) کې لالهانده او سرګردان ګرځېدل دي.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِمْ مِلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا

بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي، او مړه شوي دي، حال دا چې دوی کافران دي؛ نو له سره به قبول نشي له یوه د دوی څخه په اندازه د ډکوالي د ځمکې سره زر.

تفسیر: یعنې لکه د دنیوي حکومتونو په شان هلته د سرو او سپینو زرو په رشوت سره کار نه چلیږي، هلته خو یواځې د ایمان دولت پکار راځي، فرض یې کړئ ! که له یوه کافر سره د سرو زرو دومره لوی لوی امبارونه پراته وي، چې له هغو ځنې د ګردې ځمکې مخ ډک شي، او هغه بیخي خیرات کړي، نو د الله تعالی په دربار کې د یوې ذرې په اندازه هم هغه څه ارزښت او اهمیت نه لري، او نه په آخرت کې له داسې اعمالو ځنې څه فایده وررسیږي، ځکه چې د عمل روح ایمان دی، نو هر عمل چې له ایمان ځنې تش وي، هغه د مړ عمل په شان ګڼل کیږي، چې د آخرت په ابدي ژوندون کې هیڅ کار نه ترې اخیستل کیږي.

وَلَوِ افْتَدَىٰ بِهِ ۗ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ وَمَا لَهُمْ مِنْ نَاصِرِينَ ﴿٩١﴾

او اګر که فدیه ورکړي دې دغه (ټول سره زر) سره، دغه کسان (چې په کفر مړه دي) شته دوی لره عذاب دردناک، او نشته دوی لره هیڅ مددګاران (چې مرسته ورسره وکړي).

تفسیر: یعنې فرض یې کړئ ! که له کافرو سره هلته دومره مال وي، او پخپله دی له خپل لوري دا وغواړي، چې هغه د فدیې په ډول الله جل جلاله ته وړاندې کړي، چې دا له ما ځنې واخله ! او ما پرېږده، نو بیا هم دا فدیه ترې نه منله کیږي، دا مقصد په ۶ جزء المائدة ۳۶ آیت، شپږمه رکوع کې هم راځي.

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ ۚ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ﴿٩٢﴾

له سره به ونه مومئ تاسې (پوره) نېکي، تر هغه پورې چې خرچ کړئ تاسې (په لاره د الله کې) ځینې له هغو شیانو چې ستاسې خوښ وي، او هغه چې خرچ کوئ (یې) تاسې له یوه شي (لږ وي که ډېر) پس بېشکه الله په هغه (هم) ښه عالم دی.

تفسیر: یعنې الله جل جلاله ته معلوم دي چې تاسې څه شی او له کوم ځایه او د څه مقصد لپاره خرڅ کړی دی؟، څومره محبوب او په زړه پوري شیان چې په هره طریقه په اخلاص او ښه نیت سره چې د الله جل جلاله په لاره صرفوئ ! سم له هغه سره د الله تعالی له لوري تاسې ته هم د هغه بدل درکول کیږي، چې تاسې یې هیلمن (امیدوار) یئ ! که د اعلی درجې نیکي حاصلول غواړئ؟؛ نو له خپلو ډېرو محبوبو او ډېرو ګرانو شیانو ځنې څه شی د الله تعالی د لارې لپاره وټاکئ ! (مقرر کړئ).

كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِبَنِي إِسْرَائِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسْرَائِيلُ عَلَىٰ نَفْسِهِ مِنْ قَبْلِ أَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرَاةُ ۗ

ټول طعام (د خوړلو شیان) وو حلال بني اسرائیلو (ځامنو د یعقوب) ته مګر هغه (طعامونه) چې حرام کړي وو اسرائیل (یعقوب) پر ځان خپل (د اوښانو له غوښو او شودو) پخوا له هغه چې نازل (لېږل) کېده تورات.

تفسیر: یهودانو ځمونږ (رسول الله صلی الله علیه وسلم) او مسلمانانو ته ویل چې: «تاسې خپل ځانونه د ابراهیم علیه السلام د دین تابعان بولئ ! حال دا چې تاسې داسې شیان خورئ چې هغه د الله تعالی له جانبه په ابراهیم علیه السلام او

د ده په کورنۍ حرام شوي وو، لکه د اوښې شودې او غوښې»، الله جل جلاله فرمايي: ټول هغه شيان چې اوس يې خلق خوري د ابراهيم عليه السلام په وخت هم حلال وو، او د «تورات» له نزوله پخوا نه وو حرام شوي، هو ! په «تورات» کې ځينې شيان په خاص ډول سره پر بني اسرائيلو باندې حرام شول، مګر د اوښ له غوښې ځنې پخوا د «تورات» له نزوله اسرائيل (يعقوب) عليه السلام قسم کړی وو، چې د ده په پيروۍ ګردې اولادې يې د اوښ د غوښې د خوړلو ځنې ځانونه وساتل.

قُلْ فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوهَا إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٩٣﴾

ووايه (ای محمده ! يهودانو ته) نو راوړئ تاسې (صحيح) تورات، پس ويې لولئ تاسې (د خپل تصديق لپاره) که يئ تاسې صادقان.

تفسير: يعنې که تاسې (رښتين يئ چې دا شيان د ابراهيم عليه السلام په وخت کې حرام وو، نو راشئ ! او دا حکم پخپل منلي کتاب «صحيح تورات» کې راښکاره کړئ ! که په هغه کې مو راونه ښوده؛ نو په دې خبره کې د هيڅ شک او شبهې ځای نشته، چې تاسې کاذبان او مفتريان يئ !.

په روايتونو کې راغلي دي چې يهودان د دې زورور اعلان او بلنې استقبال ته حاضر نشول، او په دې طريقه سره ځمونږ د «نبي صلى الله عليه وسلم» په صداقت باندې يو بل دليل هم قائم شو.

فَمَنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿٩٤﴾

(نو فرمايي الله) پس هر چا چې وترل په الله دروغ وروسته له هغه (چې د حرمت، حجت، اوجهت يې ښکاره شو) پس دغه کسان (چې حق پربردي او باطل خوښوي) هم دوی دي ظالمان.

تفسير: يعنې دا به لويه بې انصافي وي؛ که د دې حجت له ظهوره مو وروسته بيا هم تاسې په همدې باندې ټينګ اوسئ او وايئ چې: دا شيان د ابراهيم عليه السلام له زمانې راهيسې حرام دی، او مونږ د ابراهيمي دين اصلي پيروان يو.

قُلْ صَدَقَ اللَّهُ ۗ فَاتَّبِعُوا مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٩٥﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) رښتيا فرمايلي دي الله (په دې تحليل او تحريم کې هم) نو متابعت وکړئ تاسې د دين د ابراهيم چې حنيف وو (په حق ټينګ ولاړ او له باطل څخه بېزاره) او نه وو له مشرکانو.

تفسير: يعنې الله تعالى د حلالو او حرامو په نسبت او هم د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم او د اسلام په باب کې هسې صافې صافې او رښتيا رښتيا خبرې اورولې دي، چې هغه هيڅوک دروغولی نشي، اوس ښايي چې تاسې هم د مسلمانانو په شان د ابراهيم عليه السلام د اصلي دين تابعان شئ ! او د ابراهيمي اصولو متابعت وکړئ ! چې په هغه کې ډېر لوی شی خالص توحيد وو، او د عُزير عليه السلام، مسيح عليه السلام احبارو (علماء) او رهبانانو (پيرانو) عبادت پرېږدئ ! او پاخه موحدان مسلمانان شئ !.

إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ

بېشکه لومړنی کوټه (بيت الله) چې جوړه شوې ده (له ګردو نه پخوا د عبادت لپاره) خلقو ته خامخا (هغه کوټه) هم دا ده چې مکه کې ده.

تفسير: د مسلمانانو په دې دعوی چې: مونږ له هر چا ځینی زیات ابراهیم علیه السلام ته نږدې یو؛ یهودو اعتراض کولو چې «د ابراهیم علیه السلام او د هغه د اولاد څخه رالیږل شوي پیغمبران خو په شام کې استوګن او بیت المقدس یې قبله وه، او تاسو په حجاز کې استوګن او کعبه مو قبله ده، نو د ابراهیم علیه السلام پیروي او نږدیوالې مو له کومه شو؟».

جواب وشو چې له ټولو ځنې لومړنی برکتي خونه (کور) چې د خلکو د مخ ګرځولو لپاره جوړه شوې ده؛ هغه همدا کعبه ده، چې په مکه مکرمه کې ده، او همدا د ابراهیم علیه السلام قبله وه، او مقام ابراهیم په هغې کې دی.

مُبٰرَكًا وَّهُدًى لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۶﴾ فِيْهِ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ مَّقَامُ اِبْرٰهِيْمَ ۚ وَمَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا ؕ

حال دا چې برکت ناکه او لاره ښوونکې ده خلقو ته (د جنت). (شته) په دې کوټه کې آثار ښکاره (ځینې یې) مقام د ابراهیم دی، او هر څوک چې ننووت په دې (کعبه) کې نو شي به په امان کې.

تفسير: حق تعالی له ابتداء څخه (بیت الله شریف) په ظاهري او باطني، حسي اومعنوي برکاتو سره معمور کړی دی، او د ګرد جهان د هدایت سرچینه یې ګرځولې دی، همدې ځای ته د (حج) د مناسکو د اداء کولو لپاره دجهان ګرد (ټول) انسانان ور دعوت شوي دي، د اسلام د جهان نیوونکي دین تابعان په مشرق او مغرب، شمال اوجنوب کې مامور دي چې د هم دې (بیت الله شریف) په لوري خپل مخونه وګرځوي، او لمونځونه اداء کړي، د دې په طواف کوونکو باندې د برکاتو او انوارو عجیب او غریب افاضات اوري، پخواني انبیاء علیهم السلام هم د حج د اداء کولو لپاره په ډېر شوق او ذوق سره تلبیه ویونکي له همدې شمعې پروانه کېدل، او تل تر تله د دې داخلېدونکي مأمون او مصون ګڼل کېدل، له دې سره نږدې د ابراهیم علیه السلام د مقام وجود دا رابنیي چې دلته د ابراهیم علیه السلام پل (قدم) هم رسېدلی دی، او د هغه رونړ تاریخ (چې د ګردو «ټولو» عربو په نزد بې له انکاره منل شوی دی) دا رابنیي، چې دا هم هغه تیږه (ګټه) ده، چې ابراهیم علیه السلام پرې درېده، او د (کعبې شریفې) دیوالونه یې جوړول، پر دغې تیږې (ګټې) باندې د ابراهیم علیه السلام د قدم اثر ثابت او تر نن ورځې پورې محفوظ پاتې دی.

وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ؕ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۷﴾

او (واجب دی) الله لره پر خلقو حج (قصد کول په نیت د حج) د (دې) بیت (الله، دا) دی پر هغه چا چې قدرت لري طرف د ده ته د لارې، او هر څوک چې کافر شو (ویې نه مانه) نو بېشکه الله بې پروا دی له ټول عالم (یعنې له هر چا او هر شي).

قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰى مَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۸﴾

ووایه (ای محمده !) ای اهل کتابو ! ولې کافران (منکران) کیږئ تاسې په آیتونو د الله، او الله ښه شاهد دی پر هغو کارونو (هم) چې تاسې یې کوئ.

تفسير: یعنې د حق او صداقت د واضحو دلائلو او د قرآن عظیم د داسې رښتیا او پخو خبرو له اوریدلو څخه وروسته په تاسې باندې څه شوي دي، چې سره له کتابیت پرله پسې د کلام الله او د هغه د راوړونکي په انکار باندې ټینګ ولاړ یئ؟ .

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنْ ءَامَنَ تَبْغُونَهَا عِوَجًا وَأَنتُمْ شُهَدَآءُ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٩٩﴾

ووايه (ای محمده !) چې ای اهل د کتابونو ! ولې تاسې منع کوئ (أړوی) له لارې د الله څخه هغه څوک چې ایمان يې راوړی؟ لټوئ تاسې لارې د الله ته کوږوالی (عیب) حال دا چې تاسې يئ شاهدان (عالمان په حقانیت د محمدي دین)، او نه دی الله بې خبره له هغه شي نه چې تاسو يې کوئ (نو تاسې ته جزا درکوي).

تفسیر: یعنې نه یواځې دا چې تاسې پخپله د ایمان د سعادت له حاصلولو ځنې محروم يئ، بلکه غواړئ چې نور هم د الله تعالی له لارې ځنې ستانه (واپس) کړئ ! او تاسې دا حرکتونه یواځې د جهل او ناپوهی له امله نه کوئ !، بلکه سره له پوهې په قصد سره يې کوئ، او سمې خبرې کړوئ، او تل د هم داسې نا مناسبو حرکاتو د جوړولو په فکر کې مشغول يئ، الله تعالی ستاسې له دې ګډو وډو، او کږو خبرو څخه بې خبره نه دی، او په مناسب وخت کې به د دې ګردو خبرو سزاوې یو ځای در کړي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن تُطِيعُوا۟ فَرِيقًا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ يَرُدُّوكُم بَعْدَ إِيمَٰنِكُمْ كَٰفِرِينَ ﴿١٠٠﴾

ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو !) که تاسې حکم ومنئ د یوه فریق له هغو کسانو چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب، نو بېرته به وګرځوي تاسې وروسته له ایمانه ستاسو کافران.

تفسیر: دلته مسلمانانو ته نصیحت کیږي، چې تاسې ولې د دې مفسدانو په دې اشارو باندې فریب خورئ؟ د دوی له دې تېر ایستلو ځنې ځان وساتئ ! که نه دا اندېښنه شته چې ورو ورو به تاسې د ایمان له رڼا ځنې باسي، او د کفر په توره تیاره کنده کې به مو غورځوي.

وَكَيْفَ تَكْفُرُونَ وَأَنتُمْ تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ وَفِيكُمْ رَسُولُهُۥ ۗ وَمَن يَعْتَصِم بِٱللَّهِ فَقَدْ هُدِىَ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٠١﴾

او څرنګه به تاسې کافران کیږئ، حال دا چې لوستل کیږي پر تاسې آیتونه د الله، او دی په تاسې کې رسول د الله، او هر څوک چې منګولې خښې کړي (د الله په دین) نو په تحقیق سره ښودنه وشوه ده ته په طرف د لارې سمې.

تفسیر: یعنې هغه قوم چې د دوی په منځ کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم تشریف لري، او شپه او ورځ د الله تعالی له جانبه دوی ته په زړه پورې خبرې آوروي، او د هغه روح پالونکي لوی آیتونه او مهم دلائل ښکاروي، نو ډېره لږ ده چې وروسته له ایمان راوړلو څخه داسې قوم بیا کافر شي، یا د کافرانو په شان کار وکړي.

فائده: د مدینې منورې د انصارو دوو قبیلو «اوس» او «خزرج» پخوا له اسلامه پخپلو منځونو کې سخت عداوت او دښمني درلوده (لږ له)، په ډېرو وړو وړو خبرو باندې به په داسې سختو جنګونو او وینو تویولو سره نښتل، چې تر کلونو کلونو پورې دا جنګ اوږد ښده.

لکه چې د «بعاث» مشهور جنګ «۱۲۰» کلونو پورې اوږد شو، آخر د اسلام د تعلیم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحبت په اثر دغه دواړه قبیلې سره ملې، او پخپلو منځونو کې لکه شودې او شکرې شولې، او د اخوت او صمیمیت (دوستی) ډېر ټینګ تعلقات د دوی په منځ کې سره قائم شول.

د مدينې منورې يهودان د دې دواړو دښمنو او غليمو قبيلو په دې طريقه مينه او محبت ډېر خپه او غمجن وو، يو ړوند يهودي (شماس بن قيس) يو فتنه اچوونکی سړی ولمساوه چې ته په داسې يوې لوئې جرګې کې چې دا دواړه قبيلې سره په کې ناستې وي، په يو چم (چل) د (بعاث) د جنګ خبره وښوروه ! کله چې هغه فتنه اچوونکي سړي يوه مناسبه موقع پيدا کړه او د (بعاث) څو غيرت پاروونکي اشعار يې ولوستل، د دې اشعارو له اورېدلو ځنې سمدلاسه خبره د خولې له خبرو ځنې تېره او تر تورو او نېزو پورې ورسېده، مګر پخوا له دې نه چې ويني تويې شي، رسول اکرم صلى الله عليه وسلم د معظمو مهاجرينو له يوې ډلې سره پر موقع وروورسېدل، او ويې فرمايل: «ای د مسلمانانو ډلې ! له الله تعالى څخه ووېرېږئ ! زه ستاسې په منځ کې موجود يم، بيا دا د جاهليت خبرې او بلنې د څه لپاره کيږي؟ الله تعالى تاسې ته هدايت وکړ ! او په اسلام يې مشرف کړئ، او د ناپوهې له تيارو ځنې يې وويستئ، نوآيا بيا تاسې د هغو کفرياتو او لغوياتو په لوري ژر بېرته ګرځئ؟ چې له هغو تورو تيارو څخه هم دا اوس د باندې وتلي يئ؟»، د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې رسالت د مؤثرې وينا په اثر (اوس) او (خزرج) دواړو خپلې وسلې وغورځولې، او يو له بله سره يې په ډېره مينه، روغبړ، معانقه، او مصافحه وکړله.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ ١٠٢

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو !) ووېرېږئ له الله نه په حق وېرې د ده !، او مه مرئ مګر په دې حال کې چې يئ تاسې مسلمانان (موحدان).

تفسير: يعنې ستاسې مسلمانانو په زړونو کې ښايي د الله تعالى پوره وېره وي، او سم له خپله توانه د پرهېزګارۍ او تقوى له لارې لرې ولاړ نه شئ ! او تل د الله جل جلاله نه د استقامت غوښتونکي اوسئ.

وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْ

او منګولې ولګوئ (ای مؤمنانو !) په رسۍ د الله (چې قرآن دی) ټول او مه سره مختلف کېږئ (وروسته له اسلامه).

تفسير: يعنې ګرد سره يو شئ ! او د پاک قرآن احکام ټينګ ونيسئ ! چې د پاک الله کلکه رسۍ ده، د «تمسک بالقرآن» مطلب داسې نه دی، چې پاک قرآن د خپل ځان او د خپلو آراوو ، هواوو، او د هوسونو تابع وګرځولی شي، بلکه د لوی قرآن صحيح مطلب هم هغه دی، چې د صحيحو احاديثو او د صالحينو اسلافو له متفقو تصريحاتو ځنې مخالف نه وي.

وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ كُنتُمۡ أَعۡدَآءٗ فَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم بِنِعۡمَتِهِۦٓ إِخۡوَٰنٗا

او ياد کړئ تاسې (ای مؤمنانو !) نعمت (احسان) د الله پر تاسې، کله چې وئ تاسې دښمنان نو ألفت (مينه) يې پيدا کړه په منځ د زړونو ستاسې کې، نو وګرځېدئ تاسې په نعمت (رحمت) د الله سره (اسلامي) وروڼه.

تفسير: يعنې د سلهاوو کلونو عداوتونو او کينې يې له منځه ورکې کړې، او الله تعالى د خپل محبوب رسول الله صلى الله عليه وسلم په سبب تاسې اسلامي خواږه وروڼه سره وګرزولی چې د هغه په اثر ستاسې دين او دنيا سم شول.

وَكُنْتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا

او وئ تاسې په غاړه د کندې له اوره (د دوزخ، په سبب د ګمراهۍ او کفر) نو خلاص يې کړئ تاسې له هغه (اور په اسلام سره).

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠٣﴾

هم داسې (لکه چې د اتفاق مفاد او د نفاق ضرر يې بيان کړل) بيانوي الله تاسې ته دلائل خپل لپاره د دې چې تاسې په سمه صافه لاره ثبات او دوام ومومئ !

تفسير: يعنې د دې خبرو له داسې ښکاره او صاف ويلو ځنې دا مقصود دی، چې تاسې تل په سمه او صافه لاره باندې لاړ شئ ! او دهسې مهلکو او خطر لرونکو غلطيو بيا اعاده ونه کړئ ! او د هيڅ شيطان په اغواء سره د استقامت لاره پرې نه ږدئ !.

وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٤﴾

او وي دې (تل) له تاسې څخه يوه ډله چې بولي (خلق) په طرف د خير (اسلام) او امر (حکم) کوي (خلقو ته) په معروف (نېکۍ) سره او منعه کوي (خلق) له منکر (بدۍ) نه، او دغه (آمرين بالمعروف ناهين عن المنکر) هم دوی دي په مراد رسيدلي او کامياب.

تفسير: يعنې تقوی، اعتصام بحبل الله، اتحاد، اتفاق، او اسلامي مؤاخات دا ټول هلته باقي پاتې کېدی شي، چې په مسلمانانو کې يوه ډله خاص د دعوت او ارشاد لپاره وي، او د دې ډلې وظيفه هم دا وي، چې د خپل قول او عمل په وسيله د دنيا اهل د قرآن او سنت په لوري وبولي، او کله چې خلق په ښو کارونو کې سست يا په خرابو کارونو کې اخته ووينې، نو دوی د نېکۍ په لوري وبولي، او متوجه يې کړي، او له بدو کارونو ځنې يې وژغوري (وساتي)، او په دې کار کې د خپل توان او قدرت په اندازه کوتاهي ونه کړي !.

ښکاره ده چې دا کار هم هغه کسان کولی شي چې د معروف او منکر په علم باندې خبر وي، او د قرآن او سنت له پوهې سره، هوښيار، ذکي، موقع پېژندونکی هم وي، که نه امکان لري، چې يو جاهل سړی به معروف منکر، او منکر معروف وګڼي، او د اصلاح په ځای به ګرد (ټول) نظام خراب او مختل کړي.

يا به د يوه منکر اصلاح داسې کوي، چې له هغه څخه نور ډېر منکرات پيدا کيږي، يا د نرمۍ په ځای به سختي او د سختي په ځای کې به نرمي کوي.

ښايي له همدې امله له مسلمانانو ځنې يو مخصوص جماعت د همدې کار لپاره مأمور کړی شوی دی، چې له هره پلوه دوی د «دعوت الی الخير» او «امر بالمعروف» «نهي عن المنکر» وړ او لايق وي، چې نبوي حديث کې راغلي دي، «کله چې خلق په منکراتو کې اخته شي، او هيڅوک نه وي چې دوی له هغو څخه وژغوري (وساتي)، نو د عمومي عذاب د راتګ اندېښنه شته».

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِن بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ ۚ وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٥﴾

او مه کېږئ تاسې په شان د هغو کسانو چې سره جلا (جدا) شول، او اختلاف (جګړې) يې وکړې د دين په اصولو کې وروسته له هغه چې راغلی وو دوی ته دلائل ښکاره (د اسلام د حقيقت)، او دا (متفرقان مختلفان مقرر دی) دوی ته عذاب ډېر لوی (د دوزخ).

تفسير: يعنې لکه يهودانو او نصرانيانو غوندې مه کېږئ چې د الله تعالی د صافو او ښکاره وو احکامو له رسېدلو څخه وروسته بيا هم په تشو اوهامو او هوسونو پسې ولوېدل، او د شرعې په اصولو کې سره متفرق او په فروعو کې سره مختلف او جلا جلا (جدا جدا) شول، په پای کې ګوند او ګوند بازۍ د دوی مذهب او قوميت وران او ويجاړ او تباه کړ، او ګرد (ټول) سره د الله تعالی په عذاب ببل ببل ککړ شول.

تنبيه: له دې آيت ځنې د هغو اختلافاتو او ډلې ډلې کېدلو مذموميت او تباهي معلومه شوه؛ چې د شريعت د صافو احکامو له خبرېدلو وروسته پيدا شي، د افسوس ځای دی چې د ننني مسلمانانو په منځ کې په سلهاوو ګوندونه (ډلې) د اسلامي شريعت له ښکاره وو صريحو، مسلّمو او ټينګو اصولو ځنې جلا (جدا) شوي دي، او د دوی په منځ کې اختلافونه اچول شوي دي، او د دې اختلاف او انشقاق عاملين د همدې عذاب لاندې راغلي دي.

بيا هم د شکر ځای دی، چې د دې بې تميزۍ په طوفان کې د الله تعالی او د ده د رسول الله صلی الله عليه وسلم له وعدې سره سم يو عظيم الشأن جماعت د پاک الله دا رسۍ ټينګه نيولې ده، او د «ما أنا عليه وأصحابي» په مسلک باندې قائم دي، (الحمد لله) او د قيامت تر ورځې به قائم وي.

پاتې شول هغه فرعي اختلافونه چې د لويو اصحابو رضي الله عنهم او د مجتهدينو ائمه وو په منځ کې شته، هغه له دې آيت سره هيڅ تعلق نه لري، د دې فرعي اختلافونو پر اسبابو باندې شاه ولي الله «رحمه الله» په خپلو تصانيفو کې کافي او شافي بحث کړی دی.

يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ ۚ

په هغه ورځ چې سپين به شي (ځينې) مخونه (د مؤمنانو) او تور به شي (ځينې) مخونه (د کافرانو).

فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ

پس هر هغه کسان چې تور شوي دي مخونه د دوی (نو و به ويل شي دوی ته) آيا کافران شوي يئ تاسې وروسته له ايمان راوړلو ستاسې؟.

تفسير: د دې الفاظو اطلاق پر مرتدانو، منافقانو، کتابيانو، او عامو کافرانو يا پر ګردو مبتدعينو، فساقو، او فجارو باندې کيږي:

«مرتد» هغه ته ويل کيږي، چې وروسته له ايمان راوړلو ځنې بيا کافر شي.

«منافق» هغه دی چې په ژبې سره اقرار کوي، خو په زړه کې ترې انکار لري، او کافر وي.

«کتابي»: پخپلو انبياوو او کتابونو باندې د ايمان لرلو مدعي وي، چې د دې مطلب داسې کيږي چې دوی هغه ګرد زيري چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په نسبت ورکړی شوي دي؛ ومني، او سم له هغو هداياتو سره ځمونږ پر

رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې ايمان راوړي، مګر دوی په خپل انکار کې له ګردو ځنې په مخ لاړل، ګواکې دوی وروسته له ايمان راوړلو پر خپل کتاب او نبي بيا کافريږي.

«مبتدع» هغه دی چې تش په خوله دعوی کوي چې مونږ د قرآن شريف او سنت تابعان يو، او پر نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندې مو ايمان راوړی دی، مګر وروسته له هغه ډېر بې اصله او باطل شيان په دين کې شاملوي، يا د دين له ځينو ضروریاتو ځنې انکار کوي، او له اصلي دين څخه د باندې وځي، همدا طريقه دوی هم تر يوه درجې پورې په ﴿أَكَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ﴾ سره مخاطبوي.

پاتې شول «فساق» چې د هغو ی عقيده صحيحه وي، که دغه خطاب هغوی ته وي، نو مطلب به يې داسې وي چې د ايمان له راوړلو ځنې وروسته دوی خپل عمل د کافرانو په شان ولې وګرځاوه؟ ګواکې له کفر څخه به عملي کفر مراد وي.

او که د عامو کفارو په حق کې دا خطاب ومنل شي، نو حاصل يې دا دی: پاک الله ګرد د فطرت په دين باندې پيدا کړئ، نو تاسې هغه ايماني فطرت ولې ضائع کړی دی؟ او ولې کافران شوي يئ؟ نور د آيت له سباقه سياقه را معلوميږي چې دلته کفر فعلي کفر، يعنې مذموم اختلاف او تفريق مراد دی.

فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿١٠٦﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ ابْيَضَّتْ وُجُوهُهُمْ فَفِي رَحْمَةِ اللَّهِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١٠٧﴾

نو وځکئ عذاب په سبب د دې چې وئ تاسې کافران کېدلئ. او هر هغه کسان چې سپين شوي دي مخونه د دوی نو وي به دوی په رحمت د الله (کې)، چې دوی به په هغه کې تل وي.

تفسير: ځکه چې جنت يواځې په عمل سره نه موندل کيږي، او سره له عمله د الله تعالى رحمت او فضل هم ورته پکار دی، او جنت همداسې يو ځای دی، چې هلته الله تعالى د هوسايی (قراری) او آرامی او ښه ژوندون هر راز اسباب او سامان مهيأ (تيار) کړی دی.

تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعَالَمِينَ ﴿١٠٨﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿١٠٩﴾

دا (چې تېر شول) آيتونه د الله دي، مونږ يې لولو پر تا باندې (ای محمده !) په حقه سره، او نه دی الله چې اراده به کوي دظلم لپاره د عالميانو (د عقاب په زياتوالي يا د ثواب په لږوالي). او (خاص) الله لره دي هر هغه څه چې په آسمانونو کې دي، او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، (سره له اسمانونو، ځمکو، ملکا، خلقاً، او عبيداً) او (خاص) الله ته بېرته ګرځول کيږي ګرد کارونه (نو هر چا ته به د دوی له اعمالو سره سمه جزا ورکوي).

كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ

يئ تاسې (ای محمدي امته !) خير (بهتر د هر هغه) امت چې ايستلي شوي دي لپاره د خلقو.

تفسير: يعنې ای مسلمانانو ! الله تعالى تاسې له ګردو (ټولو) امتو ځنې افضل او بهتر ګرځولي يئ ! د الله تعالى په ازلي علم کې له پخوا څخه هم دا مقرر او مقدر شوي وو، چې د هغه خبر ځينو پخوانيو انبياوو عليهم السلام ته هم ورکړی

شوی وو، څرنګه چې محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له ګردو (ټولو) انبیاوو علیهم السلام څخې افضل او بهتر دی، د ده امت هم له ګردو (ټولو) امتونو او اقوامو څخې ښه او بهتر دی، ځکه چې له ګردو (ټولو) څخې اشرف او اکرم رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی په برخه شوی دی، او ډېر زیات پاتې کیدونکی او ښه کامل یې په نصیب دی.

تنبیه: د دې آل عمران سورت په ۸۱ آیت ۹ رکوع په ﴿وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ﴾ الآیة ـ کې څمونږ د نبي کریم (علیه أفضل الصلاة والتسلیم) د کبرۍ امامت او جامعیت بیان شوی وو، د آل عمران سورت په ۹۶ آیت ۱۰ رکوع کې په ﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا﴾ الآیة ـ کې د ده امت د قبلې علویت او لوړه مرتبه وښوولې شوه، د آل عمران سورت په ۱۰۳ آیت ۱۱ رکوع کې په ﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا﴾ الآیة ـ کې یې د ده د امت د کتاب او د شریعت مضبوطي ښکاره کړه، او د لته د دې آل عمران د سورت په ۱۱۰ آیت ۱۱ رکوع کې د دې مرحومه امت د فضیلت او عظمت اعلان کولی شي.

تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ

چې حکم کوئ تاسې (هر چاته) په معروف (نېکۍ) سره، او منع کوئ تاسې (هر څوک) له منکر (بدۍ) څخې.

تفسیر: په «منکر» کې خراب کارونه: لکه کفر، شرک، بدعتونه، قبیحه رسوم، فسق فجور، هر راز بد اخلاق، او غیر معقولې خبرې شاملې دي، له دې منکراتو څخې ممانعت هم په څو ډولونو وي، کله په ژبه، کله په لاسونو، کله په قلم، کله په توره او ټوپک لکه په «اکبر جهاد» سره، الغرض هر راز جهاد په دې کې داخل دی، دا صفت په داسې عمومیت او اهتمام سره چې په محمدي امت کې لیده کیږي، په پخوانیو امتونو کې د هغه مثال او نظیر نه موندل کیږي.

وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ

او ایمان لرئ په الله باندې (په دوام او ثبات سره).

تفسیر: په الله جل جلاله باندې په ایمان لرلو کې د ده پر توحید، د ده پر رسولانو، د ده پر کتابونو، د ده پر پرښتو او نورو مؤمن به شیانو باندې ایمان لرل هم داخل دي، رښتیا خو دا ده چې د خالص توحید شیوع (خوروول) او اهتمام په دې اندازې سره چې «لله الحمد» په محمدي شریعت کې شته؛ په نورو امتونو کې نه وو، عمر رضي الله عنه فرمایلي دي: «هر سړی چې له تاسې څخې غواړي چې په دی امت (خیر الأمم) کې داخل شي، ښایي چې د الله تعالی شرط پوره کړي !»، یعني «امر بالمعروف، نهي عن المنکر» او «ایمان بالله» چې د هغه حاصل پخپله د ځان اصلاح او د نورو اصلاح ده، ځان ته دې غوره کړي، چې دا کار د صحابه وو «رضوان الله تعالی علیهم أجمعین» له شان څخه دي.

وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ ۚ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿۱۱۰﴾

او که ایمان راوړی واي اهل کتابو (په قرآن او محمد نو) خامخا به وو (دا ایمان بهتر) خیر دوی لره، څنې له دوی څخه مؤمنان دي، او زیات د دوی فاسقان دي (نافرمانان متمردان په کفر).

لَنْ يَضُرُّوكُمْ إِلَّا أَذًى ۖ وَإِنْ يُقَاتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُونَ ﴿۱۱۱﴾

له سره به ضرر ونه رسوي تاسې ته (دغه فساق په هیڅ باب کې) مګر په (لږ) تکلیفولو (د ژبې)، او که جنګ وکړي دوی له تاسې سره نو وبه ګرځوي دوی تاسې ته شاوې (خپلې تښتې ته)، بیا به له دوی سره مرسته ونه کړه شي، (بلکه له تاسې سره به د خالق مرستې وي).

تفسير: لله الحمد دغه پخوا و يل حرف په حرف ثابت شول، او دلويو اصحابو رضوان الله تعالى عليهم أجمعين په زمانه کې دا ګردې پېښې پر کتابيانو باندې اجراء او تطبيق شوې، کتابيانو د اسلام او مسلمانانو د ناکامۍ او تباهۍ لپاره ډېر زيات تکليفونه وګالل، او راز راز پلمې او دسيسې يې جوړې کړې، او زيات زور يې ولګاوه، مګر د مسلمانانو يوه ويښته ته يې هم څه نقص او ضرر ونه شو رسولى، هر چېرې چې مقابله وشوه، د «حمر مستنفره» په شان تښتېدل، او په هر ځاى کې به د الله تعالى نصرت او امداد د همدغه خير الأمم په نصيب وو، او دښمنان به د بد حواسۍ او بېکسۍ په حال کې مقهور او مخذول کېدل، هر لوري ته به تښتېدل، يا به بنديان کېدل، يا به يې د تسليم غاړه کېښوده، يا به جهنم ته رسېدل، فلله الحمد والمنه.

ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوا إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللَّهِ وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ

مقرر کړى شو په دوى باندې ذلت (خواري په سبب د کفران د نعمت) په هر ځاى کې چې وموندلى شي دوى (هيڅ وخت به عزت دوى ته نه وي) مګر (چې منګولې ولګوي) په رسۍ د الله او په رسۍ د خلقو (پناه د مسلمانانو).

تفسير: دا آيات د کتابيانو له جملې څخه خاص په يهودانو پورې متعلق ښکاري، لکه چې د کلام له سياقه او د قرآن کريم له نورو آيتونو ځنې ظاهر دى، يعنې خورا (ډېر) دولتمندان يهودان هم په آزادۍ او خپلواکۍ سره د خپل ځان او مال حفاظت نشي کولى، ځکه چې دوى هيڅېرې د کوم آزاد او مستقل حکومت مالکان نه دي، او په ګرده دنيا کې بې پته او بې عزته پراته دي، او يواځې ﴿وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ﴾ په وسيله دوى لږ څه هوسايي (آرام) او ژوندون کوي، ځينو مفسرينو له ﴿إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللَّهِ﴾ او له ﴿وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ﴾ ځنې د الله تعالى ذمه او د مسلمانانو عهد مراد کړى دى، يعنې پرته له دې چې له مسلمانانو سره عهد وکړي، او د الله تعالى په ذمه کې راشي.

وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ الْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ ﴿١١٢﴾

او وګرځېدل (اخته شول) دوى په غضب (قهر) له (جانبه د) الله او مقرر کړل شو پردوى باندې مسکنت (محتاجي) دا (محتاجي او غضب) په سبب د دې دي؛ چې بېشکه دوى وو چې کافران کېدل په آيتونو د الله، او وژل به يې انبياء په نا حقه سره (پخپل اعتقاد هم)، دا کفر او قتل په هغه سبب وو چې سرکښي کوله، او وو دوى چې له حدودو به تېرېدل (د عصيان په سبب).
تفسير: همدغه مضمون د «البقرة» سورت په ۶۱ آيت ۷ رکوع کې تېر شوى دى، د هغه فائده دې دلته هم ولوستل شي !.

لَيْسُوا سَوَآءً ۗ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَٰبِ أُمَّةٌ قَآئِمَةٌ يَتْلُونَ آيَاتِ اللَّهِ آنَآءَ اللَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُونَ ﴿١١٣﴾ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ ۖ وَأُولَٰئِكَ مِنَ الصَّٰلِحِينَ ﴿١١٤﴾

نه دي دوى (ټول اهل کتاب سره) برابر، ځينې د اهل کتابو يوه فرقه ده، چې سمه ولاړه ده (په حق باندې) چې لولي دوى آيتونه د الله په ساعتونو د شپې، حال دا چې دوى سجدې کوي. ايمان راوړي په الله باندې او په ورځې آخرې، (د قيامت) باندې، او امر (حکم) کوي (خلقو ته) په معروف (نېکۍ) سره، او منعه کوي (خلق) له منکر (بدۍ) څخه، او تلوار کوي په ښو کارونو کې (تاخير نه کوي)، او دغه کسان له صالحانو څخه دي.

تفسير: د دې ټولو (ټولو) کتابيانو حال يو شان نه دی، د دومره بدانو په منځ کې څه ښه کسان هم شته، او د دې مسخه شويو اشقياوو په منځ کې ځينې سعيد ارواح هم موجود دي، چې دوی ته (حق سبحانه وتعالى) د حق منلو توفيق ورکړی دی، او د اسلام په غيږ کې ننوتلي دي، لکه عبد الله بن سلام او د هغه ملګري (رضي الله تعالى عنهم).

وَمَا يَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُكْفَرُوهُ ۗ

او هر څه چې کوي دوی له خيره (ښه) پس له سره به ضايع نه کړی شي، د دوی (ثواب د) هغه کار.

تفسير: بلکه دوه مثله اجر به مومي، لکه چې د «القصص» په ۵۴ آيت ۶ رکوع کې داسې يو آيت لولو: ﴿أُولَٰئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُم مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوا﴾ او په صحيح حديث کې نبي کريم «عليه الصلاة والتسليم» د هغه تشريح فرمايلې ده.

وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ ﴿١٥﴾

او الله ښه عالم دی پر (احوالو) د پرهيزګارانو (هم).

تفسير: د همدې له امله چېرې چې د يهودانو د خرابيو ذکر راځي، حق سبحانه وتعالى دا پرهيزګاران تر مستثنى کوي، او سم د دوی له تقوى او پرهيزګارۍ سره په دنيا او آخرت کې له هغوی سره بيخي ممتازه معامله کوي.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُم مِّنَ اللَّهِ شَيْئًا ۖ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ
هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١٦﴾ مَثَلُ مَا يُنفِقُونَ فِي هَٰذِهِ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيحٍ فِيهَا صِرٌّ أَصَابَتْ حَرْثَ
قَوْمٍ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ فَأَهْلَكَتْهُ ۚ

بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي له سره به دفعه نه کړي له دوی ځنې مالونه د دوی، او نه اولادونه د دوی له(عذابه) د الله هيڅ شی !، او دغه کسان صاحبان د اور (د دوزخ دي)، دوی به په هغه (اور) کې تل وي (بې انتهاء، بلا انقطاع)، مثال د هغه مال چې صرفوي (يې کافران د الله په لاره کې) په دې ژوندانه د دنيا (لږ خسيس) کې؛ په شان د مثال د هغه باد دی، چې وي په دې باد کې ډېره يخني (يا اور) چې ورسيږي (دا باد) کښت (فصل) د يوه قوم ته چې ظلم يې کړی دی پر ځانونو خپلو، پس هلاک کړي دغه کښت (فصل).

تفسير: د صالحانو او د متقيانو په مقابل کې د لته د کافرانو د حال او د انجام ذکر فرمايي: کافران هر څومره چې مال او قوت په دنيا کې ولګوي، اګر که دوی يې پخپل زعم لوی ثواب او ښه خيرات وکړي، يا په آخرت کې يې هيڅ قدر او پوښتنه نه کيږي.

پرته له ايمان د هر عمل مثال داسې وګڼئ، لکه چې کوم شرير يا ظالم فصل وکړي، يا په باغ کې نيالګي کيږدي، او د هغه له څو ورځو زرغونتيا او ښکلي نندارې ځنې خوښ شي، او راز راز هيلې او اميدونه د هغو په نسبت پخپل زړه کې وګرځوي، چې ناڅاپه د هغه دشرارت او د بدبختۍ په اثر سخته سيلۍ ولګيږي، او پر هغو شينکو باندې دومره واوره او ږلۍ ولويږي، چې يو په يو هغه تک شين فصل او باغ خراب کړي، او ويې سوځوي، او دې په پای (آخر) کې د دې تباهۍ په نسبت خپلې ګوتې وچيچي، او خاورې په سر باد کړي، نه يې اميدونه په ځای شي، او نه د اړې او احتياج په وخت کې د هغه له پيداواره منتفع شي.

او کله چې دا تباهي دظلم او د شرارت سزا وه، نو ځکه پر دغه مصیبت باندې څه اخروي اجر هم لکه چې مؤمنانو ته په داسې مواردو کې ور رسیږي؛ په لاس نه ورځي، کټ مټ (هو بهو) همدا د هغو کفارو احوال دي، چې په شرک او کفر باندې ټینګ ولاړ دي، او پخپلو خیالاتو او چرتونو (وهمونو) ډېر خیر او خیرات ورکوي.

پاتې شول هغه کمبختان چې د هغوی زور، قوت، مال او شته د حق او د اهل حق په دښمنۍ، یا په فسق او فجور کې لګیږي؛ نو د دوی د حال پوښتنې نه دي پکار، ولې چې دوی نه یوائې خپل مال خوشې چتې (فضول) صرفوي، بلکه په دې مال صرفولو سره ځان ته لا نور زیان او وبال هم اړوي، دې ګردو ته ښایي چې په یاد یې ولري، «مال وي، که اولاد، هرشی چې وي، د الله تعالی د عذاب مخه نشي اړولی، او نه د متقیانو په مقابل کې دوی پخپلو هیلو باندې برې مومي.

تنبیه: «ریح» مفرد لفظ په قرآنکریم کې عموما د عذاب په مورد کې مستعمل شوی دی، لکه ﴿رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ او ﴿وَلَئِنْ أَرْسَلْنَا رِيحًا﴾ او ﴿إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا﴾ الآیة ـ او د «رحمت» په موقع کې د جمعې لفظ «ریاح» راغلی دی ﴿يُرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرَاتٍ﴾ او ﴿وَأَرْسَلْنَا الرِّيَاحَ لَوَاقِحَ﴾ الآیة ـ او ﴿يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا﴾ الآیة ـ کذا ذکره أبو حیان.

وَمَا ظَلَمَهُمُ اللَّهُ وَلَٰكِنْ أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿۱۱۷﴾

او نه دې ظلم کړي پر دوی باندې الله، ولیکن پر ځانو خپلو ظلم کوي دوی (په کفر سره چې د حسناتو د ضیاع موجب دی).

تفسیر: داسې دې ونه ګڼل شي، چې «هر کله د کافرانو هیڅ یوه نیکي نه منله کیږي، نو پر دوی باندې معاذ الله د الله تعالی له جانبه ظلم او تېری شوی دی»، داسې نه ده ! ځکه چې دوی دا ظلم پخپلو ځانونو باندې پخپل لاس کړی دی، که دوی کفر او شرک خپلو ځانونو ته نه غوره کولی، نو دغه بده ورځ به ورته نه پېښېده.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ ﴿۱۱۸﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو !) مه نیسئ تاسې دوستان د راز (له هیڅ فرقې نه چې وي) غیر له تاسې (مؤمنانو)، هیڅ کمی نه کوي دوی له تاسو سره د فساد (او ضرر رسولو)، دوست ګڼي دوی ضرر ستاسې، په تحقیق ښکاره شوی دی بغض او دښمني له خولو د دوی نه، او هغه بغض چې پټوي یې سینې (زړونه) د دوی؛ ډېر لوی دی (له هغه چې په خوله یې وایي)، په تحقیق بیان کړي دي مونږ تاسې ته علامې (د نفاق د دوی)، که یئ تاسې عقل چلوئ پکې (پوهېږئ).

تفسیر: حق تعالی دلته په صاف او ښکاره ډول سره تنبیه راکړه، چې مسلمانان دې د خپل حقیقي مسلمان ورور ځنې پرته بل چا ته د خپل د زړه خبره او پټه مرکه (راز) نه ورښیي، ځکه که یهودي وي یا نصراني، منافق وي که مشرک؛ له دوی ځنې هره یوه ډله چې وي ستاسې حقیقي خیر غوښتونکي نه دي، بلکه دا خلق تل په دې کوښښ کې لګیا دي، چې تاسې تېر باسي، او په هر فریب سره چې وشي، څه زیان در ورسوي، او په دیني او دنیوي خرابیو کې تاسې اخته کړي، د دوی خوښه همدا ده چې تاسې په تکلیف کې اوسئ، او په یوه نه یوه تدبیر تاسې ته کوم دیني یا دنیوي نقصان درورسیږي.

هغه دښمني او بغض چې د دوی په زړونو کې دی، هغه خو ډېر زیات دی، لیکن ډېر ځلې داسې هم کیږي، چې دوی د عداوت او غیظ د جذباتو په مقابل کې مغلوبیږي، د همدې حسد او دښمنۍ له امله د دوی ژبې د دوی په واک (قبضه) او اختیار کې نه دي.

نو د عقلمند سړي دا کار نه دی، چې هسې خبیث باطن دښمنان خپل رازداران وګرځوي، حق تعالی د دوست او دښمن علامې، او د موالاتو او نورو احکامو په ښکاره ډول سره بیان فرمایلي دي، په هر هغه چا کې چې عقل وي، له هغه ځنې به کار اخلي، (د کفارو د موالاتو په نسبت څه تفصیل پخوا له دې نه په همدې سورت کې تېر شوی دی، او څه نور په «المائده» او نورو کې راځي.

هَاَنْتُمْ اُولَآءِ تُحِبُّوْنَهُمْ وَلَا يُحِبُّوْنَكُمْ وَتُؤْمِنُوْنَ بِالْكِتٰبِ كُلِّهٖ ۚ

واورئ خبردار شئ ! تاسې هغه کسان یئ چې دوستي کوئ له دوی سره، او نه کوي دوستي دوی له تاسې سره، او تاسې ایمان لرونکي یئ پر ټولو کتابونو.

تفسیر: یعنې دا څومره بې موقعه خبره ده چې تاسې د هغوی په دوستۍ باندې نازېږئ ! او هغوی ستاسې دوستان نه دي، بلکه ستاسې بیخ ایستونکي دښمنان دي، او عجیبه لا دا ده چې تاسې آسماني کتابونه اعم له دې چې هغه د هر قوم وي، او په هره زمانه کې معمول وي، پر هر نبي الله باندې چې نازل شوي وي؛ ګرد منئ، (پر هغو باندې چې حق تعالی یې نومونه راښودلې دي بالتفصیل، او پر هغوی باندې چې نومونه یې نه دي راښودلي بالاجمال ایمان لرئ)، په خلاف د دې دا خلق ستاسې کتاب اونبي علیه السلام نه مني، بلکه دوی پر خپلو کتابونو او انبیاوو باندې هم صحیح ایمان نه لري، په دې لحاظ سره ښه خو به داسې وو چې هغوی به له تاسې سره مینه او محبت کولې، او تاسې به له دوی ځنې لري ګرځېدئ ! او نفرت او بېزاي به مو ښکارولې، مګر دلته خو معامله سرچپه او بالعکس ده.

وَاِذَا لَقُوْكُمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۖۚ

او کله چې یو ځای شي دوی له تاسې سره نو وایي دوی: ایمان مو راوړی دی.

تفسیر: منافقینو خو به تل هم داسې ویل: «عامو یهودانو او نصرانیانو هم پخپلو خبرو او اترو او مباحثو کې آمنا ـ مونږ مؤمنان یو !» ویل، له دې وینا ځنې د هغو مقصد دا وو چې مونږ په خپلو کتابونو باندې ایمان لرو، او هغه منو !.

وَاِذَا خَلَوْا عَضُّوْا عَلَيْكُمُ الْاَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ ۭ

او کله چې یواځي شي دوی نو چیچي دوی په تاسې باندې سرونه د ګوتو له (ډېره) قهره.

قُلْ مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ ۭ

ووایه (ای محمده ! دوی ته) مړه شئ په قهر (او بغض) خپل سره.

تفسیر: یعنې الله تعالی اسلام او مسلمانانو ته لا زیات ترقیات او فتوحات ور په برخه کوي، نو تاسې پخپل غیظ، غضب، او غصه کې ومرئ ! که له ډېرو لغتو وهلو ځنې مو سا وخیژي، خو بیا به هم ستاسې دا هیلي او آرزوګانې نه پوره کیږي، او الله تعالی هرو مرو اسلام غالب او مسلمانان بریالي کوي.

اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝۱۱۹

بېشکه چې الله عالم دی په هغو (خبرو هم) چې په سینو (زړونو) کې دي (نو دوی ته پرې جزاء ور کوي).

إِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَفْرَحُوا بِهَا

که ورسيږي تاسې ته کومه ښېګڼه (لکه فتح يا غنيمت) نو خپه کوي دوی، او که ورسيږي تاسې ته کومه بدي (خپګان، لکه قتل يا هزيمت) نو خوشالېږي دوی په سبب د هغه.

تفسير: که ستاسې لږ څه ګټه او فائده د دوی تر سترګو شي، مثلا ستاسې اتحاد يو جهتي، پر دښمنانو باندې غلبه، او نور ووينې، نو د رخې (کينې) او حسد په اور کې نينې نينې کيږي، او که چېرې پر تاسې کوم مصيبت يا خپګان راشي، نو دوی له ډېرې خوښۍ او خوشالۍ پخپلو کالیو (جامو) کې نه ځايږي.

وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿١٢٠﴾

او که صبر وکړئ تاسې (پر اضرارو د دوی) او ځان وساتئ تاسې (له دوستۍ د دوی) نو ضرر به ونه رسوي تاسې ته مکر، فريب د دوی هيڅ شی، بېشکه چې الله په هغو کارونو چې دوی (يې) کوي (هم) ښه احاطه کوونکی (او هر شې ورته معلوم) دی.

تفسير: ممکن وو چې چاته دا خيال پيدا کېده، چې که مونږ له دوی سره دوستانه تعلقات ونه لرو، نو دوی ته به لا زيات غيظ او غضب ورځي، او ځمونږ په خلاف به تدبيرونه کوي، او لا زيات زيان به راورسوي، ددې ځواب يې داسې ورکړ چې: که تاسې په صبر او استقلال، تقوی او طهارت باندې ټينګ ولاړ اوسئ، نو د هغوی به هيڅ ډول مکر او فريب پر تاسې نه چليږي.

وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٢١﴾ إِذْ هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ أَنْ تَفْشَلَا وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٢٢﴾ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢٣﴾

او (ياد کړه ای محمده !) چې راووتې ته په اول د ورځې کې له کوره خپله چې تيارول دې مؤمنانو ته (په احد کې) ځايونه لپاره د جنګ، او الله ښه اورېدونکی دی (د ټولو اقوالو) ښه عالم دی (پر کردو احوالو). کله چې قصد وکړ دوو طائفو له تاسې د دې خبرې چې بې زړه شي دوی (له جنګه) حال دا چې الله ولي (مددګار) د دوی وو، او خاص پر الله دې نو توکل وکړي مؤمنان. او خامخا په تحقيق مرسته (مدد) کړې وو له تاسې سره الله په (جنګ) د بدر کې، حال دا چې تاسې کمزوري وئ، نو وويرېږئ له الله نه، لپاره د دې چې شکر وکړئ تاسې (د نعمتونو او احسانونو د ده).

تفسير: په دې آيت کې د (احد) د غزا واقعه يادې شوې ده، دا واقعه داسې وه، چې د هجرت په (۲) کال د رمضان المبارک په مياشت د (بدر) په مقام کې د مسلمانانو او قريشو د فوځونو په منځ کې لوی تصادم واقع شو، چې په هغه کې د مکې معظمې له کفارو (۷۰) نومياڼي سړي مقتول او (۷۰) تنه بنديان شول، له دې تباه کوونکې او سپکوونکې ماتې څخه د قريشو د انتقام لمبې پورته شوې، او د هجرت په (۳) کال له قريشو سره نورې قبيلې هم پر (مدينې منورې) باندې د تعرض په قصد ووتلې، تر دې چې له دوی سره ښځې هم د جنګ په نيت او د دې لپاره چې د ضرورت په وخت کې نارينه وو ته غيرت ورکړي، او د دوی د ماتې مخه ونيسي؛ روانې شولې.

کله چې دغه درې زريزه لښکر په وسلو او تجهيزاتو (تيارو) سره له مدينې منورې ځنې (۳) يا (۴) ميله لرې (د احد) د غره سره نږدې د چهارشنبې په ورځ د شوال (۱۲) د هجرت په درېم کال واړول، نو رسول اکرم صلى الله عليه وسلم

له خپلو اصحابوسره جرګه او مشوره وکړه، د رسول الله مبارک رایه داسې وه، چې پخپله په مدینې منورې کې اسلامي مجاهدین پاتې شي، ځکه چې په هم هغه ځای کې هم د مکې معظمې له کفارو سره په ډېر آسانۍ سره غزا کېدی شي،او د دې فکر تایید د دوی له یوه خوب څخه هم شوی وو.

دا لمړی ځل وو چې له رئیس المنافقین (عبد الله بن أُبيّ) ځنې هم رایه واخیسته شوه، چې د ده رایه هم د رسول الله مبارک له رایې سره موافقه وه، مګر ځینې هغه پر جوش مسلمانان چې د بدر په غزا کې نه وو شامل شوي، او د غزا او شهادت په درجې موندلو پسې مضطرب وو، په دې باندې ټینګ شول چې مونږ ته ښایي چې له ښاره د باندې ووځو، او هلته له کفارو سره مقابله وکړو، تر څو دښمن د ضعف او د وېرې ګمان پر مونږ باندې ونه کړي، د آراوو اکثریت په وتلو باندې غوټه شو.

په همدې شور ماشور کې رسول الله صلی الله علیه وسلم کورته ولاړ او ځغره یې واغوسته، او خپله وسله یې واخیسته، او د غزا په نیت د باندې ووت، د پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم په غیاب کې ځینو کسانو ته هسې یو خیال پیدا شو چې «مونږ ولې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خیاله مخالف دوی ته عرض وکړ، چې د غزا لپاره د باندې ووځي !» نو ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له کور ځنې د راوتلو په وخت کې د دوی په لوړ حضور کې عرض وشو: «یا رسول الله ! کله چې ستاسې پاکه اراده پر دې باندې ده چې هم دلته مدافعه وکړو، نو رائځ چې هم دلته سنګر ونیسو»، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «یو نبي ته دا خبره مناسبه نه ده، کله چې دې ځغره واغوندي، او وسله په لاس واخلي، او غزا ته خپله ملا وتړي، بیا بې له قتاله وسله له ځانه لرې کړي».

کله چې دوی له مدینې منورې ځنې د باندې تشریف یووړ، نږدې زر تنه مجاهدین له دوی سره وو، مګر عبد الله بن أُبَيّ نږدې سره له (۳۰۰) سړیو (چې ځینې مسلمانان هم په کې وو) له لارې بېرته وګرځېدل، او ویل به یې: «کله چې ده زما په خبره باندې غوږ کښېښود، او زما په مشوره یې عمل ونه کړ، نو مونږ هم دې ته اړ نه یو چې وجنګېږو، او خامخا خپل ځانونه مړه کړو»، ځینو مشرانو (ابن أُبَيّ) وپوهاوه چې «راځه ! چې غزا ته ولاړ شو ! چېرې ځې» خو (ابن أبي) ونه منله، او ټول سره ستانه (واپس) شول.

په پای کې رسول الله مبارک سره له (۷۰۰) مجاهدینو د جنګ ډګر (میدان) ته ورسېدل، او رسول الله مبارک بالذات د لښکرو صفونه وترل، او هر یو ټولی یې په مناسب ځای کې وټاکه (مقرر کړه)، او هغوی ته یې خپل وظیفې وروښودلې، او امر یې وفرمایه: «تر څو چې زه د جنګ حکم در نه کړم ؛ تاسې مه جنګېږئ !، او په خپلو ځایونو کې منتظر اوسئ !».

په دې منځ کې د عبد الله بن أُبَی د جلا والي او د تحریک په اثر د دوو قبیلو بنو حارثه او بنو سلمه په زړونو کې څه کمزوري ورپیدا شوه، او د مسلمانانو د لږ تعداد له کبله یې زړونه سره ورېږدېدل، او داسې خیال ورپیدا شو چې د جنګ له ډګره ځان بېرته وکاږي، مګر «حق جل وعلی شأنه » د دوی لاس ونیوه، او له دوی سره یې مرسته وکړه، او زړونه یې ټینګ کړل، او دا یې ور په زړه کړ، چې د مسلمانانو اعتماد او ډاډینه ښایي یواځې په الله تعالی باندې وي، او ښایي تل تر تله د الله تعالی په اعانت او نصرت باندې متوکلان وي، تعداد، سامان، لوازم او تجهیزات او نور دومره اهمیت نه لري، کله چې الله تعالی ځوک غواړي چې مظفر او منصور وګرځوي؛ نو له ګرد ساز او سامان ځنې یې مستغني او بې پروا کوي، او غیبي تایید «فتح مبین» ور په برخه کوي، لکه چې د «بدر» په غزا کې داسې وشو.

نو مسلمانانو ته ښایي چې تل له الله تعالی ځنې وویرېږي، څو د الله تعالی له جانبه دوی ته لا انعام او احسان او د ډېر شکر کولو موقع په لاس ورشي، د «بدر» دغزا پوره تفصیل د «الأنفال» په سورت کې راځي، د هغه په فوائدو کې دې وکتل شي.

تنبیه: له دوو فرقو څخه مراد «بنو حارثه» او «بنو سلمه» دي، اګر که په دې آیت کې دوی ته نرۍ شانته «اخطار» ورکړی شوی دی، مګر ددې قبیلې څینو مشرانو به فرمایل چې: «د دې آیت په نه نازلېدو مونږ نه وو خوښ، بلکه پر نزول یې خوښ یو» ځکه چې ﴿وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا﴾ زېرې د ده له وېرې څخه لوی دی».

إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿١٢٤﴾

(یاد کړه ای محمده !) کله چې ویل تا مؤمنانو ته چې: آیا کافي (بس) به نه شي ستاسې دا چې مرسته (مدد) وکړي له تاسې سره رب ستاسې په دریو زرو له پرښتو چې رالېږلی شوي وي (له آسمانه).

تفسیر: یعنې چې له آسمانه خاص د همدې کار لپاره نازل کړی شوي وي، د اکثرو علماوو په نزد دا راجح دی، چې دا واقعه د «بدر» د غزا ده، کله چې مسلمانانو ته د کفارو د جمعیت او کثرت او اسلحې او تجهیزاتو له لیدلو څخه اندېښنې او تشویش پیدا شو، نو رسول الله مبارک د دوی د تسلی لپاره داسې وفرمایل، او داسې وشوه، لکه چې د پرښتو مرسته (مدد) له اسمانه ورسېده، د «الأنفال» په سورت کې ددې مفصل بیان راځي.

بَلَىٰ إِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُسَوِّمِينَ ﴿١٢٥﴾

هو ! (دریو زره بس کیږي) ! که تاسې صبر وکړئ او وویرېږئ (له الله) او راشي مشرکان پر تاسې؛ په دغه ساعت (بې له ټاله یو ناڅاپه) مرسته (مدد) به وکړي له تاسې سره رب ستاسې په پنځو زرو سره له پرښتو چې علامې لرونکې به وي.

تفسیر: څرنګه چې په «بدر» کې د کفارو شمېر یو زر تنه وو، لومړی یې د هغه په تناسب د یو زر پرښتو وعده وفرمایله، لکه چې د «الأنفال» په سورت کې راځي، بیا یې د مسلمانانو د وېرې د لرې کولو لپاره د دوی شمېر دریو چنده وفرمایه، ځکه چې د کفارو شمېر د مسلمانانو د شمیر په نسبت دریو چنده وو.

وروسته له دې نه د (شَعبي) له روایت سره سم کله چې مسلمانانو ته دا خبره ورسېده چې (کرز بن جابر) د لوی کومک سره د مشرکانو په مرسته راځي، نو یو نوې اضطراب پیدا شو، په دې وخت کې الله تعالی د زیات تسکین لپاره وعده وفرمایله : که له صبره او تقوی څخه کار واخلئ، نو مونږ به پنځه زره پرښتې ستاسې د مرستې لپاره درولېږو، که د مشرکانو مرسته ناڅاپه ورورسېده، نو بیا هم څه اندېښنه مه کوئ ! ځکه چې الله تعالی سم د لاسه په عین وخت کې بیا تاسې سره مرسته کوي.

ښایي چې د پنځو زرو شمېر ددې له امله ویلی شوي وي، چې لښکر په پنځو برخو ویشلی کیږي، نو هرې برخې ته یو یو زر مرسته ورکوله کېده، څرنګه چې د (کرز بن جابر) مرسته ونه رسېده، نو ځکه ځینې وایي چې: د پنځو زرو وعده هم پوره نه کړي شوه، ولې چې هغه وعده په ﴿وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا﴾ پورې معلقه وه.

د ځینو قول داسې دی چې پنځه زره پرښتې نازلې شوې. والله أعلم.

وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِ ۚ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾

او نه ده ګرځولې الله دا مرسته مګر لپاره د خوشالتیا ستاسې، او لپاره د دې چې تسکین ومومي زړونه ستاسې په دې سره، او نه ده مرسته مګر له (جانبه د) الله چې ښه غالب قوي دی (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

تفسير: يعني دا ګرد غيبي سامان په فوق العاده ډول سره د ظاهري اسبابو په صورت يواځې دې لپاره مهيأ کړی شوی دی، چې ستاسې له زړونو ځنې وېره او اضطراب لرې شي، سکون او اطمينان ستاسې په برخه شي، که نه د الله تعالى مرسته په هسې شيانو باندې محدود او مقصور نه دی، او نه له اسبابو او سامان سره څه اړه او تعلق لري، که الله تعالى اراده وفرمايي، نو يواځې پخپل قوي قدرت سره بې د پرښتو له اشتراکه هم تاسې بريالي کوي، يا بې ستاسې له جهاده او ربړ ګاللو (تکليف تېرولو) څخه کافران نا مراد او زيانمن کوي، يا له يوې پرښتې ځنې همدا کار اخلي، چې اوس يې له (٥٠٠٠) ځنې اخلي.

لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا أَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنقَلِبُوا خَآئِبِينَ ﴿١٢٧﴾

(الله کومک درکړ) ځکه چې هلاک کړي ځينې له هغو کسانو چې کافران شوي دي، يا يې ذليل (خواروزار) کړي، پس بېرته ولاړ شي (په ماتې سره) محروم.

تفسير: يعني د پرښتو له لېږلو ځنې ستاسې امداد مقصود وو، چې ستاسې زړونه ډاډه او کلک شي ! او د الله تعالى له جانبه پوره بشارت او اطمينان ومومئ ! او په سکون سره په ډېره بهادرۍ د دښمن مقابله وکړئ ! چې له هغه ځنې دا غرض وو چې دا د کفارو زور مات شي، او د دوی متونه پرې شي او څه نومیالي (نامور) ووژلی شي، او څه ترې په ذلت سره بنديان شي.

لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ ﴿١٢٨﴾

نشته تا لره له امره هيڅ شی (بلکه الله اختيار لري دهر شي) يا به رجوع وکړي (الله په قبلولو د توبې سره) په دوی باندې، يا به عذابوي (الله) دوی، پس بېشکه دوی ظالمان دي.

تفسير: د (احد) په غزا کې (٧٠) تنه لوی اصحابان شهيدان شوي وو، چې په هغوی کې ځمونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم تره سيد الشهداء حمزه رضي الله تعالى عنه هم وو، مشرکانو په ډېره وحشيانه ډول سره شهدا مثله کړي هم وو، يعني پوزې، غوږونه، او نور اعضاء يې ترې پرې او ګډې يې ورځيرې کړې وې، تر دې چې د حمزه رضي الله تعالى عنه زړه او ځيګر هم هندې (د أبو سفيان ښځې) وايستل، او ويې ژوول، ددې غزا مفصله واقعه به وروسته راشي، لنډه يې دا چې نبي کريم «عليه افضل الصلاة والتسليم» ته په دغې غزا کې د سترګو د بد نظر ضرر ورسېد، او له مخنيو څلور غاښونو ځنې لاندې ښی غاښ په شهادت ورسېد، د (خول) کړۍ يې ماتې شوې، او دده مبارک په مخ کې ننوتې، او د دده مبارک تندی زخمي شو، او دده مبارک وجود په وينو تک سور شو، په همدې وخت کې د دده مبارک پښه هم وښوييده، او پر ځمکه ولوېد، کافرانو دا مشهوره کړه (ان محمدا قد قتل)، «بېشکه محمد ووژل شو»، د دې خبرې له اوربدلو ځنې ګرد مسلمانان وارخطا شول، په دغه وخت کې د ده له مبارکې خولې ځنې دا جمله ووته: «هغه قوم به څنګه فلاح وموميِ چې د خپل هغه رسول مخ يې په وينو سور (ژوبل) کړ، چې دوی د الله جل جلاله په لوري بولي؟»، هو ! دمشرکانو د وحشيانه شدائدو او ظلمونو دليدلو په اثر دوی متأثر شول، او د کفارو څو نومیالیو (نومورو) متجاوزينو ته يې د ښېرا کولو اراده وفرمايله.

څه موده وروسته الله جل جلاله دوی ګرد سره په خپلو کړو پښيمانه کړل، او د اسلام په سر تېرو لښکرو کې شامل شول، الغرض په ﴿لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ﴾ کې يې محمد صلى الله عليه وسلم ته تنبيه وفرمايله، چې بنده لره اختيار نشته او نه د هغه علم محيط دی، د هر شي اراده چې الله تعالى وفرمايي هم هغه کوي، که څه هم کافران ستاسې دښمنان دي، او پر تاسې ظلم کوي، خو که الله جل جلاله اراده وفرمايي هغوی ته هدايت کوي، او که يې اراده وشي عذاب ورکوي، نو ته له خپله ځانه هغوی ته ښېرا مه کوه !.

په ځينو روايتونو کې د دې آيتونو په شان نزول کې بل رنګ معلومېږي چې دلته د هغوی د تفصيل د ليکلو ځای نشته، په «فتح الباري» کې څو ځايه پر هغه باندې پوره بحث شوی دی، فليراجع.

وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٢٩﴾

او (خاص) الله لره دي هر هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هر څه چې په ځمکه کې دي (سره له آسمانونو او ځمکې ملکا خلقًا او عبيدًا)، بخښنه کوي الله هر هغه چاته چې اراده وفرمايي د بخښنې يې، او په عذابوي الله هر چا ته چې اراده وفرمايي د عذاب يې، او الله ښه بخښوونکی (د خطياتو) ډېر رحم کوونکی دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوا الرِّبٰوٓا

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) مه خورئ سود !

اَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً ۠

په دې حال چې دوه چنده پر دوه چنده وي.

تفسير: د دې مطلب داسې نه دی چې لږ سود اخلئ ! خو دوه چنده او درې چنده يې مه اخلئ !؛ خبره داده چې د جاهليت په زمانه کې به خلقو سود او سوايي اخيستل، لکه چې نن ورځې په عامو او اکثرو بينکونو کې رواج دی، همدا صورت يې په ﴿اَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً﴾ سره تعبير وفرمايه، يعنې اول خو سود مطلقا حرام او قبيح دی، او بيا دا صورت خو يې ډېر زيات شنيع او بد دی، لکه چې څوک ووايي: «خانه ! په مسجد کې ښکنځلې مه کوه !» نو ددې خبرې مطلب داسې نه کيږي، چې له مسجد د باندې د ښکنځلو اجازه شته، بلکه داسې الفاظ د زيات تقبيح او تشنيع په موقع کې ويل کيږي.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿١٣٠﴾

او وويرېږئ له الله څخه ښايي چې په مراد به ورسيږئ (خلاص به شئ تاسې د الله له قهره).

تفسير: يعنې په سود خورلو کې هيڅ نيکي نشته، بلکه ښېګڼه (ښه والی) په دې کې ده، چې له الله جل جلاله ځنې ووېرېږئ ! او د سود خوراک پرېږدئ.

وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْٓ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿١٣١﴾

او ووېرېږئ ! له اوره چې تيار کړی شوی دی لپاره د کافرانو.

تفسير: يعنې سود خور دوزخ ته ځي، چې هغه اصلا د کفارو لپاره جوړ کړی شوی دی.

وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿١٣٢﴾

او حکم ومنئ د الله او (حکم ومنئ) د رسول (د الله)، لپاره د دې چې پر تاسې رحم وکړی شي.

تفسير: د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حکم منل هم په حقيقت کې د الله جل جلاله حکم منل دي، ځکه چې همده حکم راکړی دی، چې مونږ د ده د رسول الله صلى الله عليه وسلم حکم هم ومنو، او د هغه پوره اطاعت وکړو،

هغه احمقان چې د اطاعت او عبادت په منځ کې څه فرق نه کوي، دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت په شرک سره تعبیروي، ځرنګه چې د أحد په غزا کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حکم ځنې مخالفت شوی وو، لکه چې وروسته راځي، نو ځکه د راتلونکې زمانې لپاره تنبیه ورکوله کیږي، چې د الله تعالی د رحمت او د فلاح او بري هیله هلته کېدلی شي، چې د الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خبرو باندې عمل او تګ وکړی شي.

وَسَارِعُوٓا۟ إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ

او تلوار وکړئ په طرف د (هغو اعمالو چې سبب د) مغفرت د رب ستاسې او (سبب د دخول د) جنت (دی).

تفسیر: یعنې دهغو اعمالو او اخلاقو په لوري منډې ووهئ ! چې د الله تعالی له وعدې سره سم د هغه په کولو سره د بخشش وړ (لایق) او د جنت مستحق ګرځئ.

عَرْضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ

چې پلنوالی د هغه جنت (لکه پلنوالی د) آسمانونو او ځمکې دی.

تفسیر: ځرنګه چې د بنیادمانو په مغزو کې د ځمکو او آسمانونو له وسعت څخه زیات بل کوم وسعت نشي راتلی، نو ځکه یې د پوهولو لپاره د جنت عرض له هغه سره تشبیه کړ، ګواکې دا یې راوښودل چې د جنت عرض له دې ځنې زیات وګڼئ، کله چې د جنت عرض (سور) دومره وي، نو الله تعالی ته ښه معلوم دی، چې د هغه طول (اوږدوالی) به څومره وي؟

أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٣﴾ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِى ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ

تیار کړی شوی دی دغه (جنت) لپاره د پرهېزګارانو. هغه کسان چې نفقه ورکوي (مال لګوي د الله په نامه) په خوښۍ (یا ارازانۍ یا شتمنۍ کې) او تکلیف (یا قیمتي یا تنګسه کې).

تفسیر: یعنې نه په عیش او خوښۍ کې الله تعالی هیروي، او نه دتنګسۍ اوتکلیف په وخت کې د الله تعالی په نامه باندې له ورکړې څخه ځان ساتي، په هره موقع او په هر حال کې سم له خپله توانه د خیراتو او صدقاتو لپاره تیار وي، او د سود خورانو په شان بخیلان او خزانه داران نه دي، ګواکې سره له بدني جهاده مالي جهاد هم کوي.

وَٱلْكَٰظِمِينَ ٱلْغَيْظَ وَٱلْعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِ ۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣٤﴾

او چې زغمونکي د قهر دي (سره له قدرته) او عفوه کوونکي دي له خلقو (چې پرې وکړي زیاتۍ او ظلم) او الله خوښوي نیکي کوونکي.

تفسیر: د قهر او غوصې زغمل لوی کمال دی، برسېره پر هغه دا ډېر ښه او لوی کار دی، چې د خلقو تجاوزات او غلطیانې هم بېخي معافوي، او نه یې یواځې معافوي، بلکه له هغوی سره احسان، او نیکي هم کوي، غالبا پخوا له دې نه د کومو خلقو په نسبت چې د نه ښېرا کولو امر، ارشاد، او اشاره ورته شوې وه، دلته د هغوی په نسبت د غصې او د قهر زغمل، او دعفوې او د تېرېدلو ځنې د کار اخیستلو ترغیب ورکړی شوی دی.

وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ

او هغه کسان کله چې وکړي دوی کومه لویه ګناه یا ظلم وکړي دوی پر ځانونو خپلو باندې (په کولو د وړو ګناهونو).

تفسیر: یعنې بیخي په ښکاره ډول سره که څوک داسې د بې حیایۍ کوم کار وکړي، چې د هغه اثر متعدي وي، او نورو ته هم ورسیږي، یا د کوم داسې خراب حرکت مرتکب شي، چې د هغه ضرر لازمي او یواځې د ده په ځان پورې محدود وي.

ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٣٥﴾ أُولَٰئِكَ جَزَاؤُهُمْ مَغْفِرَةٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَجَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ﴿١٣٦﴾

نو یاد کړي دوی الله پس مغفرت وغواړي دوی لپاره د ګناهونو خپلو، او څوک دي چې مغفرت کوي د (ټولو) ګناهونو (هیڅوک یې مغفرت نه کوي) مګر (مغفرت یې کوي) الله، او نه کوي مداومت دوی پر هغه ګناه چې کړې ده دوی، حال دا چې دوی پوهیږي (چې مونږ بد کړي دي)، همدا (متقیان چې ذکر شول) جزاء د دوی مغفرت دی (له جانبه) د رب د دوی، او جنتونه دي چې بهیږي لاندې له (ونو او مانیو د) هغو ویالې، چې تل به وي دوی په هغو (جنتونو) کې، او څومره ښه دی اجر دعاملینو (دغه مغفرت او جنت).

تفسیر: یعنې د الله تعالی عظمت او جلال، د ده عذاب او ثواب، د ده حقوق او احکام، د ده د عدالت سره مخامخ کېدل، او د ده وعد او وعید په زړه کې یاد کړي، او د ده یادونه په ژبه سره هم شروع کړي، ورځخه وویرېږي، او په نامه سره یې وبولي، او د ده د لویي او کبریاء په مقابل کې سر په سجده کېږدي، بیا په هغې شرعي طریقې چې د ګناهونو د استغفار لپاره مقرره ده؛ عفوه او مغفرت وغواړي، مثلاً چې دحقدارانو حق أداء کړي او یا هم ورځخه عفوه وغواړي او د الله تعالی په حضور کې توبه او استغفار وکړي، او په هغې ګناه باندې چې دبشریت په مقتضا تر صادره شوي ده مداومت ونکړئ بلکه په دي باندې وپوهیږي، چې حق تعالی د بندګانو ربښتیانی توبه مني، که دی په ندامت او اقلاع سره توبه وباسي، او د ده په حضور کې په خلوصیت او انابت سره حاضر شي، نو دغه خلق هم په دویمه درجه متقیانو کې داخل دي، چې د هغوی لپاره جنت تیار شوی دی، حق تعالی د دې تائیینو ګناه عفوه کوي، او دوی ته پخپل جنت کې ځای ورکوي، او هغه توبه او نېک عمل چې دوی کړی وي، دوی ته د هغه ډېر ښه عوض ورکول کیږي.

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿١٣٧﴾

په تحقیق تېرې شوي دي پخوا له تاسې ډېر طریقې (د کفارو د هلاک) نو وګرځئ ! (تګ وکړئ) تاسې په ځمکه (جهان) کې پس وګورئ ! چې څرنګه وو عاقبت (انجام) د نسبت کوونکو د دروغو (رسولانو ته).

تفسیر: یعنې پخوا هم له تاسې څخه ډېر اقوام او ملل تېر شوي دي، او لویې پېښې شوي دي، او د الله تعالی عادت هم وار په وار معلوم کړی شوی دی، که له دوی ځنې هغه کسان چې د انبیاوو علیهم السلام په عداوت، او د حق د تکذیب لپاره یې ملاوې تړلي دي، او د الله جل جلاله او د ده (رسول) له تصدیق او اطاعت څخه یې مخ اړولی دی، او

په حرامخوری، ظلم او عصیان باندې یې اصرار کړی دی، دهغوی انجام څومره خراب شوی دی ! او د دوی د تباهی علائم او آثار وګورئ، چې نن هم ستاسې د مملکت په شاوخوا کې نږدې موجود دي.

هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٨﴾

دا (قرآن) بیان دی لپاره د (ټولو) خلقو او هدایت (لارښوونه) او موعظت (نصیحت) دی پرهېزګارانو ته.

تفسیر: یعنې د عامو خلقو د غوږونو د خلاصولو لپاره دغه قرآني مضامین بیانیږي، چې د هغو د اورېدلو څخه له الله تعالی ځنې ویرېدونکي خلق هدایت او پند اخلي، مګر هغه کسان چې د دوی په زړونو کې د الله تعالی خوف نه وي، نو دوی به د نصیحت کوونکو له تنبیهاتو ځنې څه ګټه واخلي؟

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾

او مه سستېږئ تاسې ! او مه خپه کېږئ تاسې ! او هم دا تاسې غالبان یئ که یئ تاسې مؤمنان (په حقه سره).

تفسیر: دا آیتونه د (أحد) د غزا په باره کې نازل شوي دي، کله چې مجاهدین د ډېرو زخمونو له لاسه ټوټې ټوټې وو، او د دوی د ډېرو لویولویو جنګیالیو او نومیالیو شهیدانو غوږونه او پوزې او نور اعضاء پرې کړی شوي او مثله وو، او د دوی جنازې تر سترګو لاندې پرتې وې، محمد «علیه الصلاة والسلام» هم د شقیانو له لاسه په مات غاښ او ژوبل تندي په وینو رنګ په نظر راته، ظاهرا له هر لوري د ماتې او شکست منظره ښکاره ده، د دې ناامیدیو او سختیو په هجوم کې د الله تعالی دا زورور او مؤثر بشارت غوږونو ته ورسېد: ﴿وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ وګورئ ! چې له ډېرو سختیو ځنې مه ویرېږئ ! او د الله تعالی د دښمنانو په مقابل کې نامردي، سستي، او بې زړه توب مه کوئ !، او په دې درپېښو شویو حوادثو او مصائبو باندې مه غمجن کېږئ ! او مات زړه او ورانه خوله مه کینئ، چې دا له تاسې سره وړ او د مؤمنانو دستور نه دی ! او په یاد ولرئ چې هم دا نن هم دا تاسې معزز، سرلوړي، او غیرتمن یئ ! چې د حق په حمایت کې تکلیفونه تېروئ، او ځانونه قربانوئ ! نو په یقین سره وروستنی بری هم ستاسې دی، او په پای (آخر) کې هم دا تاسې غالب او کامیاب یئ، خو په دې شرط سره چې د ایمان او ایقان په لاره مستقیم ووسئ ! او د الله تعالی پر وعدو پوره باور ولرئ ! او له «جهاد» في سبیل الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اطاعت څخه قدم بېرته وانخلئ !.

إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهُ ۚ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ ۚ

که ورسېږي تاسې ته زخم نو په تحقیق رسېدلی دی قوم (د کفارو) ته (هم) زخم په شان د زخم ستاسې، او دا ورځې (د ژوندون) اړوو راړوو یې (په وار) په منځ د خلقو کې.

تفسیر: هغه شدید نقصان چې مسلمانانو ته په جنګ کې رسېدلی وو، دوی له هغه ځنې ډېر خپه او غمجن وو، برسېره پر هغه د منافقانو او دښمنانو د ډېرې طعنې څخه هم ډېر په ربړونو کې وو، منافقانو به ویل: «که محمد په رښتیا سره د الله رسول وای، نو دومره نقصانونه به ولې ورته رسېدل؟ یا دلرې مودې له مخې به ولې ماتې ورته پېښېدې؟.

په دې آیتونو کې الله تعالی مسلمانانو ته تسلي ورکړه، چې که په دې غزا کې تاسې ته ربړ او تکلیف در پېښ شو، نو تر دې د مخه همدا راز تکلیفونه مقابل لوري ته هم رسېدلي دي، د «احد» په غزا کې ستاسې (۷۵) سړي شهیدان او ډېر غازیان زخمیان شول، حال دا چې یو کال پخوا له دې نه د «بدر» په غزا کې د کفارو اویا سړي مردار، ډېر سړي

يې زخميان، اويا تنه يې ګرفتار شول، او لومړی په هم دې «أحد» کې د دوی ډېر جنګیالي مقتول او مجروح شول، لکه چې د ﴿وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِ﴾ له الفاظو ځنې ښکاره ده، لنډه يې دا چې خپل نقصان د هغوی له نقصان سره موازنه او پرتله کړئ ! څو دغه خبره له ورا درښکاره شي، چې تاسې ته د غم او خپګان هیڅ یوه موقع نه ده پاتې.

وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا

او لپاره د دې چې معلوم کړي الله هغه کسان چې ایمان لرونکي دي.

تفسیر: یعنې د دې لپاره چې الله تعالی رښتین ایمان لرونکي له منافقانو ځنې جلا (جدا) کړي، او د دواړو رنګونه او بڼې جلا جلا په نظر راشي.

وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴿١٤٠﴾

او (بل د دې لپاره چې) ونیسي (الله) له تاسې څخه شهیدان، او الله محبت نه کوي ظالمانو (کافرانو) سره.

تفسیر: له ظالمانو ځنې که د مشرکانو هغه ډله مراد وي، چې د «احد» په غزا کې د مسلمانانو په مخامخ کې ولاړ وو، نو مطلب به یې داسې کیږي چې: د دوی د دې عارضي بري سبب دا نه دی چې پاک الله له دوی سره محبت لري، بلکه دا بریٰ نورو اسبابو باندې بنا دی، او که له ظالمانو څخه هغه منافقین مراد وي چې په عین موقع کې له مسلمانانو ځنې جلا (جدا) شول، نو دا راښکاروي: چې دوی د الله تعالی په نزد مبغوض دي، نو ځکه د ایمان او شهادت له لویې درجې ځنې بې برخې او لکه مرداره لرې وغورځول شول.

وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَمْحَقَ الْكَافِرِينَ ﴿١٤١﴾

او (بل لپاره د دې چې پاک او صاف کړي) الله (له ګناه څخه) هغه کسان چې ایمان لرونکي دي او هلاک کړي (الله) کافران.

تفسیر: یعنې ماتې او بریٰ دواړه بدلیدونکي شیان دي، خو په دې غزا کې یې مسلمانانو لره د شهادت د لوړې درجې ورکړه مطلوب وه، او د مؤمنانو او منافقانو آزموینه اومعلومول یا له ګناهونو ځنې پاکول مقصود وو، او په ورو ورو سره د کافرانو فنا او محو کول منظور وو، چې هغوی په عارضي غلبې او مؤقتي بري باندې مسرور اومغرور شي، او په کفر او طغیان کې له پخوا نه لا زیاته ترقي او پرمختګ وکړي، او ښه په کې بوخت او لګیا شي، او د الله تعالی د قهر او غضب ښه وړ او مستحق وګرځي، نو د دې له امله دا عارضي ماته د مسلمانانو په برخه شوه، که نه پاک الله له کفارو ځنې خوښ او راضي نه دی.

أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ ﴿١٤٢﴾

(بلکه) آیا ګمان کوئ تاسې د دې چې ننه به وځئ جنت ته، حال دا چې معلوم کړی به نه وي الله (په علم الظهور سره هم) هغه کسان چې جهاد یې کړی دی له تاسې ځنې، او (نه وي په علم الظهور سره) معلوم کړي (الله) صابران (ثابتان په سختیو کې).

تفسیر: یعنې الله تعالی تاسې د جنت دغه اعلی مقاماتو او لوړو درجو ته رسوي، نو آیا تاسې داسې ګڼئ چې هم داسې بې له هیڅ سختۍ تېرولو څخه آرام هم هغه ځای ته رسېږئ؟ او الله تعالی به له تاسې ځنې څه پوښتنه نه کوي؟ او امتحان

به له تاسې څخه نه اخلي؟، چې څومره کسان له تاسې څخې د الله تعالى په لاره کې جنګيدونکي دي؟ او څومره کسان د جنګ په وخت کې ثابت قدم پاتې کېدونکي دي؟ داسې خيال مه کوئ، ځکه چې لوړو ځايونو ته هم هغه سړی رسېدلی شي، چې د الله تعالى په لاره کې هر ډول مصائب او متاعب پر ځان اخلي، مشکلات تېروي، او دځان قربانولو او مصاعبو لپاره تل تيار ولاړ وي.

وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَلْقَوْهُ فَقَدْ رَأَيْتُمُوهُ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ ﴿١٤٣﴾

او خامخا په تحقيق وئ تاسې چې آرزو به مو کوله د مړګ پخوا له هغه چې تاسې پېښېدئ پر دغه (مړګ) نو په تحقيق وليد تاسې دا (مړګ) حال دا چې تاسې (ورته) کتل.

تفسير: هم هغه اصحاب کرام رضي الله عنهم چې د «بدر» د غزا له شرکته بې برخې پاتې وو، دوی د «بدر» د شهيدانو د ډېرو فضائلو له اورېدلو څخې داسې تمنا او ارزو کوله، چې کاشکې الله جل جلاله بيا موقع راولي، چې مونږ هم د الله په لاره کې ووژلی شو، او د شهادت دا لوړه مرتبه حاصله کړو، هم دوی د «أحد» په غزا کې دغه مشوره ورانديې کړې وه، چې راځئ له مدينې منورې نه د باندې ووځو ! او هلته له غليم سره وجنګيږو، دوی ته فرمايي: هغه شی چې تاسې يې تمنا کوله، ستاسې تر سترګو لاندې راغی، نو اوس د پرمختګ په ځای، بېرته ولې ځان باسئ؟، په حديث کې راغلي دي چې: «د دښمن د ليدلو تمنا مه کوئ ! مګر که ورسره مخامخ شئ، نو ثابت قدم اوسئ».

وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ وَمَنْ يَنْقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَضُرَّ اللَّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللَّهُ الشَّاكِرِينَ ﴿١٤٤﴾

او نه دی محمد مګر (دی) يو رسول (د الله)، په تحقيق تېر شوي دي له ده نه پخوا (ډېر) رسولان، آيا نو که مړ شي (محمد) يا شهيد کړی شي نو بېرته به وګرځئ تاسې پر پوندو خپلو (کفر ته)، او هر څوک چې بېرته وګرځېد، په پوندو خپلو (کفر ته) نو له سره به زيان ونه رسوي الله ته هيڅ شی، او ژر به جزاء ورکړي الله شکر ګذارانو ته (د اسلام په نعمت).

تفسير: واقعه داده چې د «احد» په غزا کې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د جنګ نقشه جوړه کړه، د ګردو صفونو له جوړولو څخه وروسته يوه دره پاتې شوه، چې له هغې درې (وټې) څخه اندېښنه وه چې د کفارو لښکر د شا له لوري يرغل (حمله) رانه وړي، نو د دې درې په يوې لوړې ځوکې کې رسول مبارک صلى الله عليه وسلم پنځوس تنه زورور غشي ويشتونکي وټاکل، چې د هغوی رئيس عبد الله بن جُبير رضي الله عنهم وو، او پر دوی يې زيات تاکيد وکړ چې «مونږ په هر حالت چې يو، ودې اوسو خو تاسې هرو مرو (خامخا) همدا ځوکه وساتئ ! او پخپلو غشو سره د همدغې درې ساتنه وکړئ ! اعم له دې نه چې نور مجاهدين غالب وي، که مغلوب، تر دې که تاسې ووينئ چې مرغان د هغوی غوښې خوري، خو بيا هم له خپله ځايه مه خوځيږئ !.

خو کله چې دښمن مات شو، او مجاهدينو د غنيمت پر اموالو باندې قبضه کول شروع کړل، کله چې دغه نندارە هغو (۵۰) تنو غشو ويشتونکو ته ورځرګنده شوه، نو يې داسې ګومان وکړ چې ګواکې فتح کامله شوه، او دښمن تښتي، نو ځمونږ دلته چتې (بېکاره) کيناستل څه پکار دي؟ ښه خو داده چې د غليم تعقيب وکړو، او په غنيمت کې هم خپله برخه واخلو، عبد الله بن جُبير (رضي الله عنه) د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم توصيه او ارشاد دوی ته ور په ياد کړ، خو دوی هسې وګڼل چې لکه مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم اصلي مقصد او هدف بيخي پوره کړی دی، اوس نو په دې ځای کې ولې وزګار کينو.

په دې خيال کې ګرد تېروتل، يوائې عبد الله بن جبير رضي الله تعالى عنه له (۱۱) تنو نورو ملګرو رضوان الله تعالى عليهم سره د هغې درې د ساتنې لپاره پاتې شول، د مشرکينو سواره د خالد بن وليد په رياست چې تر دغه وخت پورې په اسلام لا مشرف شوی نه وو، د تېښتې په منځ کې يو ځلې بېرته واپس شوه، او د هم دغې درې له لورې يې پر مسلمانانو حمله (يرغل) يووړه، لسو دولسو غشو ويشتونکو ونشو کولی چې د هغو سورو مخه ونيسي، خو سره له هغه هم عبد الله بن جُبير سره د خپلو ملګرو رضي الله تعالى عنهم ښه په بهادرۍ سره تر دې حده پورې مدافعه وکړه، چې ځانونه يې ګرد سره قربان کړل.

مسلمانان مجاهدين چې د شاه له جانبه بيخي مطمئن وو، ناڅاپه پر دوی باندې د مشرکانو سواره ورغلل، او دمخې له لوري د مشرکينو هغه فوځونه هم ېرته وروګرځېدل چې پخوا له دې نه تېښتېدلي وو، او سخت جنګونه سره ونښتل، او مجاهدين د کفارو له لوري محصور او سخت ويروونکي جنګ ته مجبور شول، نو ځکه ډېر مسلمانان سره شهيدان او زخميان شول.

په همدې تهلکه او پرېشانۍ کې (ابن قميئه) يوه غټه تېره (ګټه) د رسول الله مبارک په لوري ورووېشته، چې د هغې په اثر د رسول الله مبارک پاک غاښ شهيد او منوره څېره يې زخمي او ژوبله شوه، (ابن قميئه) غوښتل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم وژلو ته هم اقدام وکړي، مګر اسلامي علَم وړونکی «مصعب بن عُمير رضي الله عنه» مدافعه وکړه، خو رسول الله مبارک د زخم له شدته پر ځمکه ولوېد، کوم شيطان غږ وکړ، چې «محمد ووژل شو»، د دې بدې خبرې په اوربدلو سره مسلمانان وارخطا شول، او پښې يې سستې شوې، او لاس تر زنې پاتې شول، ځينې مسلمانان مبهوت او حيران کيناستل، ځينو ضعفاوو ته هسې خيال پيدا شو، چې د مشرکانو له رئيس ابو سفيان ځنې پناه وغواړي، ځينو منافقانو وويل: «کله چې محمد ووژل شو، نو مونږ اسلام بيخي پرېږدو، او خپلو پخوانيو مذهبونو ته بېرته ګرځو».

په دې وخت کې أنس بن النضر د أنس بن مالک تره وويل: «که محمد صلى الله عليه وسلم په شهادت ورسېد، نو د محمد صلى الله عليه و سلم رب خو ژوندی دی، او وروسته د محمد صلى الله عليه وسلم له شهادت څخه ځمونږ ژوند څه پکار دی؟ په دې مبارکه لاره کې چې رسول الله مبارک خپل ځان قربان کړی دی، ښايي چې مونږ هم ځانونه قربان کړو !»، دا يې وويل او پر کفارو يې حمله او يرغل ورووړ، او د جنګ ډګر ته لکه زمری ور وړاندې شو، او تر هغه پورې په بهادرۍ وجنګېد، چې په شهادت ورسېد، رضي الله عنه !.

په دې وخت کې د رسول الله مبارک غږ پورته شو:

«إلي عباد الله ! أنا رسول الله» «ځما په لوري راشئ ! ای د الله بندګانو، زه د الله رسول يم» کعب بن مالک رضي الله عنه د رسول الله مبارک غږ وپېژاند او چيغه يې وکړه: «ای مسلمانانو ! زېرې مې درباندې، چې رسول الله مبارک لله الحمد ژوندی دی !»، دلته ددې غږ د اوربدلو په اثر ګرد مسلمانان هم هغه لور ته ورتګ شروع کړ، او سمدلاسه (۳۰) تنه اصحاب د ده مبارک په ګرد چاپېر کې غونډ شول، او په سخته مدافعه يې شروع وکړه، او د مشرکانو فوځ يې بيا سره تيت او پرک (منتشر) کړ، په دې موقع کې سعد بن أبي وقاص، طلحه، أبو طلحه، قتاده بن النعمان، او نورو أصحابو رضي الله عنهم أجمعين ډېر زيات ربړونه وګالل (تکليفونه تېر کړل)، او خپل سرونه يې پخپلو ورغويو کې ونيول، او سخت جنګونه يې له کفارو سره وکړل، تر دې چې مشرکانو بيخي ميدان پرېښود، او بيا تېښتې ته اړ او مجبور شول، او دا آيت نازل شو: ﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ﴾ الآيه - يعنې محمد صلى الله عليه وسلم هم يو بنده او رسول د الله دی، الله خو نه دی، له ده ځنې پخوا ډېر رسولان تېر شوي دي، چې وروسته له هغوی ځنې هغوی تابعانو د هغوی دين ساتلی دی، او خپل ځان او مال ترې جار (قربان) کړی دی، مګر هغه دين يې له لاسه نه دی ايستلی، او تل يې قائم ساتلی دی.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم انتقال له دې فاني دنيا ځنې کومه د تعجب خبره نه ده، که دا وخت نه وي نو په بل کوم وخت کې خو هرو مرو (خامخا) دې وفات کېږي، که کوم وخت دې وفات يا بالفرض په شهادت ورسېږي، نو

آيا تاسې به د دين له خدمت، يا د هغه له حفاظت نه ژر تر ژره پر خپلو پوندو ببرته ګرځئ؟ او له «جهاد» في سبيل الله ځنې به مخ اړوئ؟ لکه چې اوس د ده د قتل د خبر له اورېدو ځنې ډېر کسان بې حوصلې شول، او له پښو ولوېدل، يا د منافقينو له مشورو سره سم -العياذ بالله- بيخي مخ اړوئ؟ او ببرته کافران کيږئ؟ له تاسې ځينې داسې هيله هيڅکله نه کيږي، که څوک داسې وکړي نو خپل ځان ته به نقصان ورسوي، اوالله تعالى ته هيڅ زيان نشي رسولى، الله جل جلاله ستاسې مرستې (مدد) ته محتاج نه دى، بلکه تاسې شکر وکړئ که هغه تاسې ته د دين لار نه وي درښودلې، او د دين په خدمت کې يې نه وئ مشغول کړي نو ستاسې حال به څه و؟

«او شکر هم دا دى چې مونږ لا زيات د دين په خدمت کې مضبوط او ثابت قدم اوسو»، په دې کې اشاره ده چې د رسول کريم صلى الله عليه وسلم د وفات په تقريب کې به ځينې خلق له دين څخه اوړي، او هغه کسان چې په دين باندې قائم پاتې وي، هغوى ته به لوى اجر وي، لکه چې هم داسې پېښه هم وشوه، چې ډېر خلق مرتدان شول، او د صديق اکبر رضي الله تعالى عنه په وسيله ببرته په اسلام مشرف شول، او ځينې ترې ووژل شول.

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا ؕ

او نشته هيڅ نفس لره دا چې مړ شي مګر په اذن (حکم) د الله سره، چې ليکلى شوى دى (دا مړ ګ) په يوه مقرر وخت کې (چې نه وړاندې او نه وروسته کيږي).

تفسير: نو هر کله چې هيڅوک بې د الله تعالى له حکمه نه شي مړ کېداى، اګر که د موت ډېر اسباب هم سره غونډ شوي وي، او د هر سړي موت په مقرر وخت کې راتلونکى دى، نو پر الله تعالى باندې توکل کوونکو ته له دې مړ ګه ويرېدل نه ښايي، او نه د کوم لوي يا واړه د موت د اورېدلو له خبره ښايي چې سړى مايوس او نا اميده شي، او بيخي غمجن کيني.

وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ

او هر څوک چې غواړي (په عمل خپل سره بدل) ثواب د دې دنيا نو ور به کړو مونږ هغه ته له هم دغه (دنيوي بدل).

تفسير: يعنې که الله جل جلاله اراده وفرمايي، لکه چې په (۱۵) جزء د (بني اسرائيل سورت) په ۱۸ آيت ۲ رکوع کې مونږ داسې يو آيت لولو: ﴿عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ﴾.

وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا ؕ

او هر څوک چې غواړي (په عمل خپل سره بدل) ثواب د آخرت، نو ور به کړو مونږ هغه ته له هم دغه (أخروي ثواب).

وَسَنَجْزِى الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۵﴾

او ژر به جزا (ثواب) ورکړو مونږ شکر ګذارو (احسان منونکو) ته.

تفسير: يعنې هغه کسان چې پر دغه دين ثابت قدم پاتې کيږي، هغوى ته هم په دين او هم په دنيا کې اجر ور په برخه کيږي، خو که څوک د دې لوى نعمت په قدر باندې پوهيږي (كذا في الموضح).

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُوا لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَمَا ضَعُفُوا وَمَا اسْتَكَانُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ ﴿۱۴۶﴾

او ډېر له انبياوو ځنې وو چې د دوی په مرسته (مدد) جنګېدلي وو رباني سړي ډېر، نو هيڅ قدر به نه سستېدل هغوی له سببه د هغه تکليفه چې رسېدلی به وو دوی ته په لاره د الله کې، او نه ضعيفان کېدل (په جنګ کې) او نه به سر ټيټاوه دوی (دښمن ته)، او الله محبت کوي صبر کوونکو سره.

تفسير: يعنې له تاسې څخه پخوا ډېر د الله تعالی خاص بندګان له انبياوو عليهم السلام سره مله شوي، له کفارو سره يې جنګ کړی دی، چې په هغو کې ډېر زيات تکاليف او ربړونه يې ګاللي دي، خو په دغو شدائدو او مصائبو کې هم دهغوی په ارادو کې هيڅ يوه سستي نه وه واقع شوې، نه يې همت بايلودلی وو، نه يې خپل ځان کمزوری ښکاراوه، نه يې د دښمن په مخ کې سر ښکته کاوه، الله تعالی له هسې ثابت قدمو بندګانو سره خاص محبت لري.

په دې سره هغو مسلمانانو ته تنبيه ورکوي او په غيرت يې راولي، چې په «أُحُد» کې له دوی ځنې کمزوري څرګنده شوې وه.

وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّا أَن قَالُوا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿۱۴۷﴾

او نه وه وينا د دوی (يعنې وينا د مجاهدينو) مګر دا چې ويل دوی: ای ربه ځمونږه ! وبخښه مونږ ته ګناهونه ځمونږ ! او له حده تېرېدل ځمونږ ! په (دې) کار ځمونږ کې، او ثابت (ټينګ کړه) قدمونه ځمونږ (په طاعت خپل کې) ! او مرسته (مدد) وکړه له مونږ سره په قوم کافرانو !.

تفسير: يعنې د مصائبو او شدائدو په هجوم کې يې نه د وېرې کومه خبره وويله، او نه له مقابلې ځنې ستانه (واپس) شول، او نه يې د دښمن اطاعت ومانه، نه يې يوه خبره له خپلې خولې ځنې وويسته، که يې وويل، خو همدا يې وويل: «ای الله ! ته ځمونږ ټول تقصيرات عفوه کړه ! او ځمونږ ګرد تېري را معاف کړه ! او ځمونږ زړونه مضبوط او ثابت وساته ! څو ځمونږ قدمونه د حق له لارې ځنې ونه ښويږي، او مونږ ته د کافرانو په مقابله کې مرسته (مدد) راکړه !».

دوی هسې ګڼي چې ډېر ځلې د مصائبو په راتګ کې د خلقو ګناهونه او د هغوی تقصيرات دخل لري، او له مونږ ځنې کوم سړی دا سې دعوی کولی شي، چې له هغه ځنې هيڅکله هيڅ يو تقصير نه دی صادر شوی.

په هر حال د دې په ځای چې له مصيبت ځنې سړی وويريږي، او خلقو ته پناه يوسي، ښه خو داده چې پاک پروردګار ته پناه يوسي، او هغه مالک الملک والملکوت صاحب الکبرياء والجبروت ته دې سر ښکته کړي !.

فَآتَاهُمُ اللَّهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْآخِرَةِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿۱۴۸﴾

نو ورکړل دوی ته الله ثواب د دنيا او ښه ثواب د آخرت، او الله محبت کوي د نيکي کوونکو سره.

تفسير: يعنې په دنيا کې يې د هغوی فتحه او ظفر په برخه کړ، وجاهت او قبول يې ورعطا کړ، او د آخرت لوی ثواب يې په برخه شو، وګورئ ! هغه کسان چې له الله تعالی سره خپله معامله په ښه ډول سره ساتي، او ښه کارونه کوي، له هغوی سره الله تعالی داسې محبت کوي، او هغوی ته داسې ثمره ورکوي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن تُطِيعُوا۟ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَٰبِكُمْ فَتَنقَلِبُوا۟ خَٰسِرِينَ ﴿١٤٩﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) که اطاعت وکړئ تاسې د هغو کسانو چې کافران شوي دي؛ نو بېرته به وګرځوي دغه (کفار) تاسې په پوندو ستاسې (د کفر خوا ته) نو وبه ګرځئ تاسې زیانکاران (یعنې بیا به مو کافران کړي).

بَلِ ٱللَّهُ مَوْلَىٰكُمْ ۖ وَهُوَ خَيْرُ ٱلنَّٰصِرِينَ ﴿١٥٠﴾

بلکه الله مولی مرسته کوونکی، یا (دوست لرونکی) ستاسې دی، او هم دی ډېر ښه د ټولو مرسته کوونکو دی.

تفسیر: نو ځکه ښایي د هم دغه الله تعالی چې ځمونږ مولی او (خیر الناصرین) دی؛ خبره ومنله شي ! او په مرسته باندې یې اطمینان وشي !، د هرچا چې مددګار الله تعالی وي، هغه به دې ته څه احتیاج لري، چې د الله تعالی د دښمنانو د معاونت او مرستې انتظار ولري، یا به د هغوی په مخ کې د اطاعت غاړه ږدي.

سَنُلْقِى فِى قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلرُّعْبَ بِمَآ أَشْرَكُوا۟ بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا ۖ وَمَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ ۖ وَبِئْسَ مَثْوَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥١﴾

ژر به وغورځوو مونږ په زړونو د هغو کسانو کې چې کافران شوي دي رعب (هیبت ـ وېره) په سبب د شریک نیولو د دوی د الله سره هغه شی چې نه دی نازل کړی (الله) په (شریک نیولو د) هغه کوم برهان (دلیل) او ځای د هستوګنې د دوی اور (د دوزخ) دی، او بد ځای د هستوګنې د ظالمانو دی (دا اور د دوزخ).

تفسیر: یعنې څرنګه چې أبوسفیان سره له خپلو فوځونو د جنګ له میدانه نا أمیده وتښتېد، په لار کې داسې خیال ورته پیدا شو چې: «مونږ ولې یو اسلامي ستړی ستومان ژوبل فوځ همغسې پرېښود؟ او ولې ترې راغلو؟ راځئ ! چې بېرته وګرځو، او د دوی کار سره تمام کړو»، مګر د حق تعالی د هیبت او د اسلام د رعب په اثر یې همت ونشو کړی، چې دا خیال عملي کړي، پرته له دې مسلمانانو مجاهدینو تر (حمراء الأسد) پورې کفار تعقیب کړل، او وروسته له هغه یې بیا کفارو ته هیڅ موقع ورنه کړه چې د «أحد» واقعات بیا اعاده شي.

تنبیه: تر هغه چې مسلمانان حقیقي مسلمانان وو، تل کفار له دوی ځنې خائف او مرعوب وو، بلکه تر نن پورې مونږ مشاهده کوو چې د مسلمانانو د سخت انتشار، تشتت، ضعف، او تنزل سره سره د دنیا ګرد کافران له دوی ویدو ځمریانو ځنې ویریږي، او تل په دې فکر کې دي چې دا توریالی قوم بیا ویښ نه شي، په علمي او مذهبي مناظرو کې هم د اسلام همدا رعب مشاهده کیږي، په حدیث شریف کې راغلي دي چې: «زما رُعب د یوې میاشتې له مسافې ځنې د دښمنانو په زړونو کې اچول شوی دی»، بېشکه د هم هغه اثر دی، چې مسلمه أمت ته هم په برخه شوی دی: فلله الحمد علی ذلک والمنة.

وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعْدَهُۥٓ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِۦ

او خامخا په تحقیق رښتیا کړه تاسې ته الله وعده خپله په هغه وخت کې کله چې وژل تاسې کافران په اذن (حکم) د الله سره.

تفسير: لکه چې الله تعالى خپله وعده د «أحد» د جنګ په ابتداء کې ربښتيا ښکاره کړه، او مسلمانانو د الله تعالى په امر باندې کافران تار په تار او ډګر يې په وينو سور کړ، (۷) يا (۹) هغه سړي چې د هغوی په لاسونو کې د مشرکانو بيرغ وو، پرله پسې يې ووژل، او ځای په ځای يې کوټه کړل، او د ګردو ککرۍ هلته په وينو سره او ککړې شوې، په آخر کې کفار د ډېرې وېرې له لاسه بد حواسه شول، او ګرد وتښتېدل، مسلمانانو د فتح او بري ځيره صافه وليدله، او په مخ کې ورته د غنيمت د اموالو انبارونه پراته وو.

حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَٰزَعْتُمْ فِى ٱلْأَمْرِ وَعَصَيْتُم

تر هغه وخته پورې چې بې زړه شوئ تاسې او (پخپلو منځونو کې) سره مخالف شوئ په امر (د نبي) کې او نافرماني وکړه تاسې (د خپل نبي).

تفسير: يعنې رسول الله صلى الله عليه وسلم چې کوم حکم غشو ويشتونکو ته ورکړی وو، له هغه ځنې مخالف کار وکړ شو، او دوی پخپلو منځونو کې په جګړو سره اخته شول، ځنيو وويل چې: «مونږ لره ښايي چې هم دلته ټينګ ودرېږو، او هيڅ ترې ونه خوځيږو»، ډېرو کسانو وويل چې: «اوس هيڅ ضرورت نشته، چې دلته وزګار کينو، ځئ ! چې څو غنيمت حاصل کړو»، آخر زياترو غشو ويشتونکو خپل سنګرونه (مورچې) پرېښودل، او مشرکانو له هم هغه ځايه ناڅاپه پرې حمله (يرغل) راوړه، له بلې خوا د رسول الله مبارک د قتل خبر مشهور شو، دغو شيانو د دوی پر زړونو کې کمزوري پيدا کړه، چې د هغه نتيجه د بې زړه توب (فشل) په صورت ظاهره شوه، ګواکې د بې زړه توب سبب جګړه، او دجګړې سبب عصيان وو.

مِّنۢ بَعْدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَ ۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلْءَاخِرَةَ ۚ

له هغه وروسته چې درونبود تاسې ته (الله) هغه شی چې ستاسې خوښ وو (له نصرت او غنيمت څخه) ځينې له تاسې هغه دي چې خوښوي دنيا (دا ژوندون لږ خسيس) او ځينې ستاسې هغه دي چې خوښوي آخرت.

ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۖ

بيا (الله) وګرځولئ تاسې له کافرانو څخه (په تښته سره) لپاره د دې چې وازمويي تاسې.

تفسير: يعنې پخوا خو کفار ستاسې لـه مخې تښتېدل، او اوس خو تاسې مسلمانان د هغوی په مخ کې تښتئ ! ستاسې د غلطی او قصور له امله دغه معامله سرچپه شوه، او په دې کې ستاسې آزمينه ده، څو مخلص او غير مخلص مسلمانان صاف پکې ښکاره شي.

وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ ۗ

او خامخا په تحقيق عفوه وکړه (الله تاسې ته).

تفسير: يعنې کومه غلطي چې شوې وه هغه پاک الله تاسې ته بيخي معافه کړه، اوس دغه هيڅا ته جائزه نه ده، چې د دې حرکت له سببه پر بل چا باندې طعن او تشنيع ووايي.

وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٥٢﴾

او الله څښتن (مالک) د لوی فضل (رحمت، مهربانی، احسان) دی پر مؤمنانو باندې.

تفسیر: یعنې الله تعالی د داسې مهربانی او فضل څښتن (مالک) دی چې د مؤمنانو تقصیرات معافوي، او په عتاب کې هم د لطف او شفقت خوا تل د ده ملحوظه وي.

إِذْ تُصْعِدُونَ وَلَا تَلْوُونَ عَلَىٰ أَحَدٍ وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ فِي أُخْرَاكُمْ

(یاد کړئ) هغه وخت چې تلئ منډې وهلې تاسې (بېرته مو شا ګرځوله)، او نه مو کتل هیڅا ته، حال دا چې رسول (د الله) بللئ تاسې وروسته ستاسې.

تفسیر: یعنې تاسې تښتېدئ او پر غرونو او میرو باندې ختلئ، او منډې مو وهلې، او له وارخطایی مو شا ته نه کتل، په دې وخت کې رسول الله مبارک ځای په ځای ثابت او مستقیم ولاړ وو، او تاسې یې له دې قبیح حرکت څخه منع کولئ، او تاسې یې خپل لور ته بللئ، مګر تاسې د ډېر تشویش او اضطراب له امله د هغه آواز کله اورېده؟ تر څو چې کعب بن مالک رضي الله تعالی عنه چیغې وکړې، او خلقو دا چیغې واورېدې، او بېرته ستانه شول، او د خپل مقدس رسول صلی الله علیه وسلم په شاو خوا کې سره راټول شول.

فَأَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ لِكَيْلَا تَحْزَنُوا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَا أَصَابَكُمْ ۗ

نو سزا یې درکړه تاسې ته یو غم په سبب د بل غم، لپاره د دې چې خپه نه شئ تاسې په هغه شي چې پاتې شو له تاسې (له غنیمت څخه) او نه په هغه شي چې ورسېد تاسې ته (د جنګ له تکلیف نه).

تفسیر: یعنې تاسې د خپل رسول الله صلی الله علیه وسلم زړه تنګ کړ، چې د هغه په بدل پر تاسې باندې هم تنګي راغله، هو ! د غم په عوض غم درورسېد تر څو چې وروسته له دې نه مو دا په یاد وي، چې په هر حالت کې ښایي د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر حکم باندې تګ وکړئ !اعم له دې چې کوم منفعت لکه غنیمت او نور څه ستاسې له لاسه ووځي، یا کومه بلا ستاسې په مخه درشي.

تنبیه: اکثرو مفسرینو د ﴿فَأَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ﴾ معنی داسې کړېده چې: الله تعالی تاسې ته د یوه غم د پاسه بل غم درکړ، یعنې یو غم د لومړنی فتحې او بري له لاسه وتلو له امله، او بل غم ستاسې د سړیو د وژل کېدلو، او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د شهادت د خبر خورېدلو په سبب وو.

ځینو داسې مطلب اخیستی دی چې د فتحې او غنیمت له لاسه وتلو، او د مالي او بدني نقصان ګاللو کوم غم چې وو، دهغه د پاسه یو بل لوی غم تاسې ته درورسېد؛ چې د هغه له امله هغه پخواني غمونه ګرد له تاسې څخه هېر شول، یعنې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د شهادت آوازه چې د دې غم له شدته وړاندنی وروستنی ګردې خبرې له تاسې هېرې شوې، تر دې چې د رسول کریم «علیه أفضل الصلاة والتسلیم» غږ مو هم وانه ورېد، لکه چې پر یوه لوري د بیخي ملتفت کېدلو په وخت کې له بل لوري ځنې طبعا غفلت او ذهول پېښېږي.

وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٥٣﴾

او الله ښه خبردار دی په هغه شي چې تاسې یې کوئ (لکه نور شیان).

تفسير: يعنې ستاسې له احوالو او نيتونو ځنې ښه خبردار دی، او سم له هغو سره به درسره معامله کوي.

ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّن بَعْدِ الْغَمِّ أَمَنَةً نُّعَاسًا يَغْشَىٰ طَائِفَةً مِّنكُمْ

بيا يې نازل کړ (راولېږه) پر تاسې باندې وروسته له دې غمه امن (ښغمي) پرکالي د خوب چې لاندې يې کړه يوه طائفه له تاسې (چې مؤمنان وو).

تفسير: يعنې په دې غزا کې د هر چا په برخه کې چې شهادت وو شهيدان شول، او د هر چا په برخه کې چې ماتې وه ماتې يې وکړه، او هغه مخلص مجاهدين چې د «جهاد» په ميدان کې باقي پاتې شول، حق تعالى په هغوی باندې يو راز داسې د خوب پرکالي راوستله، چې په عين ولاړه کې پرکالي يوړل، د طلحه رضي الله تعالى عنه له لاسه څو ځلې چاړه پر ځمکه ولوېده، د ايو حسي اثر له هغه باطني اطمينان او سکون څخه وو، چې په هسې لويه هنګامه او ډېر سخت شور ماشور کې د مؤمنانو پر زړونو باندې محض د الله تعالى په فضل او مرحمت سره وارد شو، او وروسته له هغه د دوی له زړونو څخه د دښمن خوف او وېره بيخي ورکه شوه، دغه کيفيت په عين هم هغه وخت کې ورپېښ شو، چې د مجاهدينو په لښکر کې څه نظم او نسق قائم نه وو، او ډېر شهيدان په خاورو او وينو رنګ پراته وو، مجاهدين د ډېرو زخمونو له امله ټُکر ټُکر وو، د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم د قتل آوازه د دوی ګرد فکر، هوښ، حواس وړي وو، ګواکې دغه خوب د ويښېدلو لپاره وو، پر مؤمنانو باندې پرکالي راغله، او د دوی هغه ګرده ستوماني او سترتيا يې له منځه ورکه کړه.

وَطَائِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ

او بله طائفه وه (له تاسې چې منافقان وو) په تحقيق په فکر کې غورځولي وو دوی نفسونو د دوی.

تفسير: دا ويريدونکي او خائفان منافقان چې له دوی سره نه د اسلام غم او نه د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم څه درد وو، له دوی سره يواځې د دوی د ځان فکر وو، او په هغه کې بيخي ډوب تللي وو، او په خپلو زړونو کې به يې دا فکرونه کول، نه چې د أبو سفيان لښکر بيا کومه حمله او يرغل راوړي، او مونږ ته بيا کوم جنګ او جنجال راپېښ کړي، که داسې وشي نو ځمونږ حال به هلته څه وي؟ نو په هسې وېره، اندېښنو، او چرتونو کې پر دوی باندې نه پرکالي او نه خوب راته.

يَظُنُّونَ بِاللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ

چې ګمانونه به کول دوی په الله باندې (ګمان) نا حقه (لکه) ګمان د جاهليت.

تفسير: يعنې داسې ګمان کوي چې د الله تعالى وعدې چېرې ولاړې؟ معلوميږي چې اوس د اسلام قصه پای (آخر) ته ورسېده، اوس رسول او مسلمانان خپلو کورونو ته بيا بېرته تلونکي نه دي، ګرد هم دلته شهيدان کيږي، لکه چې په ۲۶ جزء د «الفتح» سورت په ۱۲ آيت ۲ رکوع کې فرمايي: ﴿بَلْ ظَنَنتُمْ أَن لَّن يَنقَلِبَ الرَّسُولُ وَالْمُؤْمِنُونَ إِلَىٰ أَهْلِيهِمْ أَبَدًا﴾.

يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ الْأَمْرِ مِن شَيْءٍ

وايي دوی چې آيا شته مونږ لره له امره (د نصرت له کاره) څه برخه؟ (هيڅ نشته).

تفسير: يعنې آيا ځمونږ کار څه لا باقي دی، يا بيخي خلاص شوی دی، يا دا چې مونږ ته چې د محمد صلى الله عليه وسلم د مرستيانو څخه يو څه فتح او ظفر په لاس راغی؟.

يا دا معنى څه چې د الله تعالى اراده وه، هغه يې وكړه، ځمونږ يا د بل په هغه كې څه واک دی؟ دا د الفاظو ظاهري معنا وه، ليكن هغه چې د دوی د زړونو نيت وو، وروسته له دې نه راځي.

قُلْ إِنَّ الْأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ

ووايه (ای محمده ! دوی ته چې) بېشكه امر (د نصرت يا هزيمت كار) ټول خاص الله لره دی، (او هر شی د الله په حكم كيږي).

تفسير: يعنې دا د منافقانو قول «كلمة حق أريد بها الباطل» دی، بېشكه دا صحيح ده چې ستاسې په لاسونو كې هيڅ نشته، او ټول كارونه د الله تعالى په قدرت او اختيار كې دي، د هر چا په نسبت چې اراده وفرمايي، د هغه حال سنبالوي، يا يې له جنجاله ډكوي، غالب يا يې مغلوبوي، آفت ور رسوي، يا راحت برې يې په برخه كوي، يا ناكامي، هم دا يوه واقعه د يوه قوم لپاره رحمت او د بل قوم لپاره زحمت ګرځوي.

يُخْفُونَ فِي أَنْفُسِهِمْ مَا لَا يُبْدُونَ لَكَ يَقُولُونَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ مَا قُتِلْنَا هَاهُنَا

پټوي دا (منافقان) په نفسونو (زړونو) خپلو كې هغه (خبرې) چې نه يې درښكاروي تاته (ای محمده !)، وايي دغه (منافقان يو تر بله): «كه چېرې وای مونږ لره له امره (د نصرت له كاره) يو شی، نو نه به وو وژلي شوي مونږ دلته (په دې غزا د «أحد» كې).

تفسير: د دوی د زړه پټه خبره دا وه چې ﴿هَلْ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ مِنْ شَيْءٍ﴾ به يې ويل، او په زړه كې به يې د هغه معنى داسې كوله ﴿مَا قُتِلْنَا هَاهُنَا﴾ او له مخلصو مسلمانانو ځنې به جلا كېدل، او پخپلو منځونو كې به يې سره ويل: «خانه ! دوی په اول كې ځمونږ خبرو ته غوږ كښنبود، او د څو سرتېرو او نا تجربه كارو ځلميانو په وينا سره له مدينې څخه د باندې د غزا لپاره ووتل، آخر يې پخپلو مخونونو باندې سختې څېړې وخوړلې، كه لږ څه واک (قبضه) او اختيار ځمونږ په لاس كې وی، او ځمونږ په مشورو باندې يې عمل كړی وای؛ نو دومره نقصانونه به يې ولې ګالل (تېرول)، او ځمونږ له ګوند ځنې به ولې دومره سړي وژل كېدل؟ (زياتره منافقين نسبا د مدينې منورې له انصارو سره شامل وو، نو ځكه يې په ﴿قُتِلْنَا هَاهُنَا﴾ كې د هغوی وژل د خپل ځان وژل وبلل)، يا دا مطلب كه د رسول الله مبارك له وينا سره سم فتح او ظفر او غلبه د مسلمانانو لپاره وای، نو دا د قتل او جرحى مصيبت به ولې پر مونږ باندې راته.

قُلْ لَوْ كُنْتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِينَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ إِلَى مَضَاجِعِهِمْ

نو ووايه (ای محمده ! دوی ته) كه وی تاسې په كورونو خپلو كې (نو) خامخا به راوتلي وو هغه كسان چې مقرر شوی وو په دوی باندې وژل طرف د ځايو د پرېوتلو خپلو ته.

تفسير: يعنې له دې افسوس څخه هيڅ په لاس نه درځي، الله تعالى د هر چا د اجل او سبب وخت ليكلى دی، هيڅكله هغه نه بدليږي، كه تاسې پخپلو كورونو كې هم پټېدئ، او فرض يې كړئ كه ستاسې رايه هم آوربده كېدی، نو بيا به هم هغه كسان چې د هغوی وژل كېدل د «أحد» په نړدې ځايونو كې مقدر وو، خامخا به په يو نه يو سبب سره هم هغه خوا ته تلل، او هم هغلته به وژل كېدل، دا د الله تعالى انعام دی په كوم ځای كې چې د هغوی وژل مقدر وو، هم هغلته ووژل شول، مګر د الله تعالى په لاره كې په ډېره زړورتيا او خوښى سره شهيدان شول.

وَلِيَبْتَلِيَ اللَّهُ مَا فِي صُدُورِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِي قُلُوبِكُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿١٥٤﴾

او (دغه معامله الله تعالى په أحد کې وکړه) لپاره د دې چې وازمويي الله هغه شی چې په سينو (زړونو) ستاسې کې دی، او لپاره د دې چې ښکاره کړي (الله) هغه شی چې په زړونو ستاسې کې دی، او الله ښه عالم دی په هغو خبرو چې په سينو کې پرتې دي (لکه نور شيان).

تفسير: مقصود دا وو چې ستاسې له ګردو څخه يو امتحان واخيستل شي، تر څو هر هغه شيان چې ستاسې په زړونو کې دي هغه د باندې ووځي، د امتحان په بټۍ کې سره او ناسره پخپله سره بيل کړي، مخلصين د خپلو بريو صله او انعام وومي، او د هغوی زړونه د سبا لپاره له وسوسو او کمزوريو ځنې پاک او صاف شي، او د منافقانو د زړونو نفاق ښکاره شي، او خلق په ښکاره ډول د دوی له باطني پليتۍ څخه خبر کړي.

إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ ۙ إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا ۖ وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٥٥﴾

بېشکه هغه کسان (له تاسې) چې وګرځېدل دوی (له جنګ نه) په هغې ورځې کې چې مخامخ شول سره دواړه فوځونه، بېشکه همدا خبره ده چې ښويولي وو دوی لره شيطان په سبب (د شامت) د ځينو هغو ګناهونو چې کړي وو دوی، او خامخا په تحقيق عفوه کړېده الله دوی ته، بېشکه الله ښه مغفرت کوونکی (د خطياتو) ښه تحمل کوونکی دی (د عقوبت په تأخير د رجوع لپاره).

تفسير: له مخلصينو څخه هم ځنې وختونه څه وړه يا لويه ګناه صادريږي، همغسې چې له يوه طاعت څخه د بل طاعت توفيق زياتيږي، هم داسې د يوې ګناه له نحوسته شيطان ته موقع په لاس ورځي، او سړی د نورو غلطيو او ګناهونو په لوري ښويوي، او ورته چمتو (تيار) کوي يې.

د «احد» په غزا کې هم هغه مخلص مسلمانان چې خپل سنګرونه (مورچې) يې پريښې وو، دا کار يې د کومې پخوانۍ ګناه له شامته وو چې شيطان دوی تېر ايستل، او ويې ښويول يوه ګناه خو دا وه، چې ډېرو غشو ويشتونکو د رسول کريم صلى الله عليه وسلم د حکم اطاعت و نه کړ، مګر د الله تعالى فضل وګوره چې د هغې مقابلې کې يې دوی ته د کومې سختې ماتې سزا ور نه کړه، برسېره پر هغه د دې حضراتو ګرد ګناهونه يې معاف کړل، چې هيڅ يو تن له دوی ځنې ګناهګار پاتې نه شو، او هيڅوک حق نه لري چې په هغوی باندې طعن يا څه ملامتي ووايي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ كَفَرُوا

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو !) مه کېږئ تاسې لکه هغه کسان چې کافران شوي دي.

تفسير: يعنې تاسې لکه دا کافر منافقان هسې لغو او چټې خيالاتو ته پخپلو زړونو کې ځای مه ورکوئ، چې که مونږ پخپلو کورونو کې ناست وای؛ نو نه به وژل کېدلو.

وَقَالُوا لِإِخْوَانِهِمْ

او ويل به دوی په (حق د) ورونړو خپلو کې.

تفسير: څرنګه چې منافقان په ظاهره کې مسلمانان شوي وو، نو ځکه يې مسلمانانو ته ورونه ويل، يا دا چې په نسبي ډول دوی د مدينې منورې د انصارو له ورونو ځنې وو، او څنګه يې چې دا خبرې د خير خواهۍ او همدردۍ په دود کولې، نو ځکه د «اخوان» لفظ سره يې تعبير وکړ شو.

إِذَا ضَرَبُوا فِي الْأَرْضِ أَوْ كَانُوا غُزًّى لَّوْ كَانُوا عِندَنَا مَا مَاتُوا وَمَا قُتِلُوا لِيَجْعَلَ اللَّهُ ذَٰلِكَ حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْ ۗ

کله به چې سفر ته وتل دوی په ځمکه (په ملک کې) کې، يا به وو دوی غزا کوونکي، که چېرې وای دوی له مونږ سره؛ نو نه به وو مړه شوي دوی، او نه به قتل کړی شوي وو دوی، لپاره د دې چې وګرځوي الله دا (ګمان) حسرت (افسوس، ارمان) په زړونو د دوی کې.

تفسير: يعنې که دا شهيدان شوي مسلمانان له مونږ سره پخپلو کورونو کې او سېدی نو ولې به وژل کېدل؟ دا وينا د دې له امله ده چې د آور ېدونکو مسلمانانو په زړونو کې حسرت او افسوس پيدا شي، مګر مسلمانان داسې ناپوهان نه وو، چې په هسې فريبونو به غوليدل، بلکه له هسې خبرو څخه بالعکس د منافقانو غيرت او اعتبار لاړ.

ځينو مفسرينو چې په ﴿لِيَجْعَلَ اللَّهُ ذَٰلِكَ حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْ﴾ کې «لام» د عاقبت لپاره اخيستی، نو داسې معنی يې کړ ېده: «د منافقانو پر ژبه او په زړه باندې ځکه داسې خبرې جاري و ې، چې الله تعالی تل دوی د افسوس او حسرت په اور کې وسوځوي، او په کې پرې يې ږدي»، او د دوی بل حسرت به دا وي چې مسلمانان ولې ځمونږ په شان نه شول، او ځمونږ په خبرو باندې ولې چا غوږ کېنښود؟ ګواکې په دې تقدير سره د ﴿لِيَجْعَلَ﴾ تعلق د ﴿لَا تَكُونُوا﴾ الآيه ـ سره هم کېدی شي.

وَاللَّهُ يُحْيِي وَيُمِيتُ ۗ

او الله ژوندي کول (ژوندي پرېښودل) او مړه کول کوي.

تفسير: يعنې ژوندي کول او مړه کول د الله تعالی کار دی، خورا ډېر کسان په خپل ګرد عمر کې سفرونه کوي، او په جنګونو کې شاملېږي، مګر مرګ دوی ته د هغوی په کورونو او د دوی په بسترو کې ورسېږي، مګر بيا هم هم دوی وايي: «سړی په خپل کور کې له هر ډول مصيبتونو او اندېښنو ځنې ساتلی وي»، ډېر کسان داسې شته دي، چې عادتًا په خپلو کورونو کې اوسېږي، مګر په پای (آخر) کې داسې يوه وسيله وربرابرېږي، چې دوی له خپله کوره وځي، او هم هغلته د باندې مړه يا ووژل شي، د بندګانو په هسې تدبيرونو مرګ ښېرته کېدونکی او بچ کېدونکی نه دی.

خالد بن وليد رضي الله عنه د خپل وفات په وخت کې وويل: «زما په بدن کې هسې يوه لوښت ځای نشته چې د تورو، او غشو له زخمه خالي وي، مګر زه نن لکه يو اوښ غوندې په خپل بستر او کور کې مرم».

وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١٥٦﴾

او الله پر هغو (ټولو) شيانو چې تاسې يې کوئ ښه ليدونکی دی.

تفسير: يعنې الله جل جلاله ته معلوم دي چې منافقان او کافران پر کومه لاره باندې درومي؟ او مسلمانان تر کوم ځای پورې د دوی له تشبه او پيروی ځنې ځانونه ساتي؟ نو هر يوه ته الله تعالی د ده له حاله سره مناسب بدل ورکوي.

وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ ﴿۱۵۷﴾ وَلَئِنْ مُتُّمْ أَوْ قُتِلْتُمْ لَإِلَى اللَّهِ تُحْشَرُونَ ﴿۱۵۸﴾

او قسم د ی خامخا که ووژلی شوئ تاسې په لاره د الله کې یا مړه شوئ تاسې (په لاره د الله کې) نو خامخا مغفرت له جانبه د الله او رحمت (مهرباني د الله) خیر (ډېر ښه) دی له هغو (مالونو) چې دوی یې جمع کوي. او قسم دی که مړه شوئ تاسې یا ووژلی شوئ تاسې نو خامخا به الله ته راجمع کړی شئ تاسې (ټول).

تفسیر: یعنې فرض یې کړئ چې که تاسې سفر یا «جهاد» ته ونه وځئ ! او في الحال په یو چل ځان له مړکه وساتئ، مګر دا خبره ضروري ده چې کله نه کله به تاسې مرئ !، یا به وژل کیږئ، بیا به په هر حال سره تاسې ټول د الله تعالی په مخ کې حاضریدونکي او ګرد سره جمع کیدونکي یئ، هلته به تاسې و پوهیږئ، چې هغه بختور کسان چې د الله تعالی په لاره کې او په ښو کارونو کې مري یا وژل کیږي، دوی ته د الله تعالی له مغفرت او مهربانۍ څخه څومره ډېره برخه ور په برخه کیږي؟ چې د هغې په مقابل کې د نیوي ګټې او ګرد جمع کړی دولت او ثروت هیڅ دی.

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ ﴿۱۵۹﴾

نو په سبب د رحمت د الله (چې پر تا شوی دی ای محمده ! تل) نرمي کوې ته دوی ته، او که وې ته (ای محمده !) بد خوی سخت زړی نو خامخا به تار په تار شوي وو (اصحاب) له چاپېره ستا څخه (ای محمده !)، نو عفوه وکړه دوی ته (د دوی له تجاوز نه پر تا) او مغفرت وغواړه (له الله) دوی ته (د تقصیراتو د دوی)، او مشوره وکړه له دوی سره (په کار) امر کې، نو کله دې چې ټینګه اراده وکړه (ای محمده ! د یوه کار کولو ته) نو توکل (اعتماد) وکړه پر الله باندې، بېشکه الله محبت کوي توکل کوونکو سره (چې بریالي کوي یې او د رشد او صلاح لاره ورښیي).

تفسیر: الله تعالی مسلمانانو ته د هغوی په تقصیراتو باندې تنبیه وفرمایله، او د عمومي عفوې د اعلان له اورولو څخه وروسته یې دوی ته نصیحت وکړ، چې بیا د دې ډلې په خبرو باندې چې د لستونې ماران دي؛ مه تېروځئ ! په دې آیت کې یې د هغوی د تقصیر د عفوې تکمیل وکړ.

﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ﴾ یعنې د الله تعالی څومره زیات رحمت پر تاسې او دوی باندې دی، چې تاسې یې دومره خوش اخلاق او خوش خوی وګرځولئ، که کوم بل څوک وي نو الله تعالی خبر دی، چې په دغومره یوه لویه واقعه کې به یې څه سخته رویه غوره کوله؟ او برسېره په دې دا د الله تعالی څومره مهرباني ده، چې تا غوندې شفیق او نرم زړه رسول یې هغوی ته وراستولی دی، فرض یې کړئ که په مزاج کې مو شدت وای، نو دا قوم کله ستاسې په خواوو شا کې ټولېدلی شو، که له دوی ځنې کومه غلطي کېدی، او تاسې له دوی سره سختي کولی، نو د شرم او دهشت له امله به ستاسې مخ ته نشوی راتلی، نو له دې امله به دوی له ډېر خیر او سعادت څخه بې برخې پاتې کېدل.

إِن يَنصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۖ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا الَّذِي يَنصُرُكُم مِّن بَعْدِهِ ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٦٠﴾

که مرسته وکړي له تاسې سره الله (لکه چې په بدر کې يې وکړه) نو نشته (هيڅ) غالب پر تاسې باندې، او که مرسته ونه فرمايي له تاسې سره (الله لکه چې په أحد کې يې پرېښودئ) نو څوک دی هغه چې مرسته به وکړي له تاسې سره وروسته له هغه (خذلان د) الله؟(هيڅوک نشته !) او خاص پر الله دې پس توکل (اعتماد) وکړي مؤمنان.

تفسير: پخوا يې رسول صلى الله عليه وسلم ته فرمايلي ووچې «په الله تعالى توکل وکړئ !» دلته دا راښيي، چې د توکل او اعتماد وړ (مستحق) او لائق هم هغه لوی ذات دی چې له ځکردو(ټولو) ځنې قوي او غالب دی، ځکردو (ټولو) مسلمانانو ته ښايي چې د ده پر مرستې (مدد) باندې توکل وکړي، پاک الله وروسته له دې نه له خپل لوري د مسلمانانو د تقصيراتو معافول او پر خپل رسول صلى الله عليه وسلم باندې يې د هغو د معافولو نصيحت هغوی ته فرمايي، چې د هيڅا په خبرو باندې مه خطا وځي ! او خالص پر الله تعالى باندې توکل او اعتماد ولرئ ! نو د هغه مرسته (مدد) به در ورسيږي، او هيڅ يو طاقت به پر تاسې باندې نه غالبيږي، لکه چې د «بدر» په غزا کې مو ولید، او که د کوم مصلحت له امله ستاسې مرسته ونه کړي، نو بيا هيڅوک تاسې ته مرسته نشي دررسولى، لکه چې د «احد» په غزا کې تاسې ته تجربه وشوه.

وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَغُلَّ ۚ وَمَن يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦١﴾

او نه ښايي هيڅ نبي ته چې څه شی پټ کړي، او هر څوک چې څه شی پټوي نو را به وړي (دا پټوونکی) په هغه سره چې ده پټ کړی وي، په ورځې د قيامت کې، بيا به پوره ورکړی شي هر نفس ته (جزا د) هغه عمل چې کړی وي ده، او پر دوی به ظلم ونه کړي شي، (په تزييد د عذاب، يا تنقيص د ثواب کې).

تفسير: له دې ځنې غرض د مسلمانانو پوهول دي، چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم له عظمت، عصمت، او امانت څخه ځان خبر کړئ، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په نسبت هيڅکله چټې (فضول) او بيهوده خيالات په زړه کې ونه ځکرځوئ ! مثلا، داسې ځکمان ونه کړئ ! چې له غنيمت ځنې به يې څه مال پټ ساتلی وي، العياذ بالله، ښايي دا يې ځکه فرمايلي وي چې هغو غشو ويشتونکو ته چې د غنيمت لپاره يې خپل سنګرونه (مورچې) پرېښودل؛ ځکوندې داسې خيال په زړه کې ځکرځېدلی وي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به مونږ ته له غنائمو څخه برخه نه راکوي، يا به ځينې شيان له مونږ ځنې پټ ساتي.

تنبيه: د «غلول» اصلي معنى د غنيمت په مال کې خيانت کول دي، خو کله د مطلق خيانت په معنى هم راځي، خو کله محض د يوه شي په پټولو باندې هم د هغه اطلاق کيږي، لکه چې ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي: «غلُّوا مصاحفكم».

أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللَّهِ كَمَن بَاءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٦٢﴾

آيا نو هغه څوک چې متابعت کوي د رضامندی د الله، په شان د هغه چا دی چې اخته شي په قهر سره له (طرفه د) الله (د الله دغوصې مورد وځکرځي؟ بلکه نه دی) او ځای د ده دوزخ دی، او بد ځای د ورتلو دی (دا دوزخ).

تفسير: يعني رسول الله مبارک چې په هر حال کې نه يواځې د الله تعالى د مرضى تابع دى، بلکه غواړي چې نور خلق هم د الله تعالى د مرضى تابع وګرځوي، آيا دې د هغو خلقو کار کولى شي چې د الله تعالى د غضب وړ او د دوزخ مستحق وي؟ ممکن نه دى !.

هُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶۳﴾

دوى (د الله تعالى د رضا تابعان خاوندان د متفاوتو) درجو دي په نزد د الله کې، او الله ښه ليدونکى دى په هغو شيانو (هم) چې دوى (يې) کوي.

تفسير: يعني نبي عليه السلام او بل مخلوق له سره نه دي برابر، له طمعې او له نورو سپکو او ذليلو کارونو سره انبياء عليهم السلام هيڅ تعلق نه لري، الله تعالى ته ټول معلوم دي، چې څه درجې لري؟ او ټول کارونه ورځرګند دي، آيا الله تعالى به هسې ټيټ طبيعت لرونکو سړيو ته د نبوت منصب څرنګه ورکوي؟ (العياذ بالله).

لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ

خامخا په تحقيق احسان کړى دى الله پر مؤمنانو باندې کله چې مبعوث کړ (راولېږه الله) په دى (مؤمنانو) کې رسول له نفس (جنس) د دوى نه.

تفسير: يعني د هم دوى له جنسه او له قومه يې يو بنيادم رسول ورلېږلى دى، چې له هغه سره کيناستل، خبرې اترې کول په ژبه يې پوهېدل آسان دي، او د هغه له احوالو، اخلاقو، د ژوندانه له سوانحو، امانت، ديانت، طهارت او د الله تعالى څنې له وړې څخه يې خبر يئ، او کله چې ستاسې د هم دې قوم او قبيلې له يوه سړي څخه معجزه ښکاره شي او تاسې هغه وګورئ نو په يقين راوړلو کې زيات سهولت راځي.

فرض يې کړئ که کوم پېرى (جن) يا پرښته (ملک) د رسول په صفت لېږل کېدى، نو د ده د معجزاتو د کتلو په وخت کې هسې خيال ممکن وو: څرنګه چې هغه د بشر له جنسه جلا مخلوق دى، ښايي چې دغه خوارق د ده دملکى او جنّي طبيعت او د نوعي صورت خاصه نتيجه وي، ځمونږ عجز له هغه څخه د نبوت دليل نشي کېدى.

يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۚ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۶۴﴾

چې لولي (دغه رسول) پر دوى باندې آيتونه د الله، او پاکوي دوى (په توحيد سره له ګناه، کينې، او شرکه) او ښيي دوى ته کتاب (قرآن) او حکمت (نبوي سنت او شرعي احکام) او بېشکه وو دوى (له دې نه) پخوا هرو مرو په ګمراهۍ ښکاره کې.

تفسير: هم دا مضمون د البقرې د سورت په (۱۲۹) او (۱۵۱) آيتونو کې تېر شوى دى، خلاصه يې داده چې څلور شيان يې بيا ن کړي دي:

(۱) د آيتونو «تلاوت»: چې د هغو په ظاهري معنى باندې د دې له امله چې د ژبې خاوندان دي، پوهيږي او عمل پرې کوي.

(۲) د نفسونو «تزکيه» (د نفساني ککړو او د شرک او معصيت له ګردو مراتبو څخه د دوى د زړونو پاکول او ښه صيقل کېدل): دا شى د «آيات الله» د عمومي مضامينو له تعميل او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له صحبت او په آيات الله کې له تدبر څخه باذن الله حاصل شوى وو.

(۳) «تعليم الكتاب» (هغوی ته د کتاب الله مراد ورښودل، مثلا که اصحابو کرامو به یو لفظ د ظاهري مدلول، عمومي تبادر او محاورې له لحاظه تفسیرولو، او د مشکلاتو سره به مخامخ شول، په دې وخت کې به پیغمبر صلی الله علیه وسلم د کتاب الله اصلي مراد بیاناوه، او د دوی اشتباه به یې لرې کوله، لکه چې په ﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ أُولَٰئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ﴾ الآية ـ او نورو ځایونو کې دغه طریقه عملي شوې وه.

(۴) د «حکمت» تعلیم، یعنې د قرآن او سنت ښودنه او د هغې وضاحت او بیانول، او د غیر واضحو نصوصو تفسیر او توضیح کول.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی په اعانت او توفیق دا پاتې قوم د علم او عمل په اعلی مراتبو باندې فائز کړ، چې له سلهاوو پېړیو را په دیخوا په انتهایي جهل او وحشت او ښکاره ګمراهۍ او ضلالت کې ډوب وو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د څو ورځني تعلیم او صحبت په برکت د ده اصحاب رضي الله عنهم أجمعین د ګردې دنیا لارښوونکي او معلمان شول، نو دوی لره ښایي چې د دې لوی نعمت قدر وپیژني، او هیڅکله په هېره سره هم هسې کوم حرکت ته اقدام ونه کړي، چې له هغه څخه د دوی زړه خوږ او متألم شي.

أَوَلَمَّا أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا قُلْتُمْ أَنَّىٰ هَٰذَا

آیا کله چې در ورسېد تاسې ته (په احد کې له کفارو څخه) یو مصیبت چې په تحقیق سره رسولی وو تاسې (کفارو ته په بدر کې) دوه چنده له دې غمه، نو وویل تاسې: له کومه دا (غم راغی مونږ ته؟) یا رسېدلي وئ تاسې په دوه چنده له نصرته (ای مسلمانانو په بدر کې) نو وویل تاسې له کومه دا (غم راغی مونږ ته؟).

تفسیر: یعنې د «احد» په غزا کې هغه تکلیف او نقصان چې تاسې وګاله، د هغه په نسبت په تعجب سره وایئ چې: مونږ مسلمانان مجاهدین وو، او د الله تعالی په لاره کې د ده له دښمنانو سره د جنګېدلو لپاره وتلي وو، او الله تعالی د پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارکه ژبه مونږ ته د نصرت او مرستې وعده هم راکړې وه، نو بیا دا مصیبت پر مونږ باندې ولې نازل شو؟.

د هسې وینا کولو په وخت داسې فکر په کار دي، چې هومره تکلیف تاسې ته رسېدلی دی، د هغه تکلیف دوه چنده ستاسې له لاسه کفارو ته هم رسېدلی دی، په «احد» کې تقریبا ستاسې (۷۰) تنه شهیدان شول، او په «بدر» کې د کفارو (۷۰) تنه ووژل شول، او (۷۰) تنه نور کافران داسې بندیان شول چې د هغوی وژل ستاسې په پوره واک (قبضه) کې وو.

بیا په «احد» کې هم لومړی د کفارو زیات له شلو تنو مقتولان شول.

که د لرې مودې له مخې تاسې مغلوبان شوئ ! نو په «بدر» کې تاسې کفارو ته سخته ماته ورورسولې وه، او په «احد» کې هم کله چې تاسې خپلې پښې ټینګې او په مېړانه وجنګېدئ ! نو کفار وتښتېدل، او د جنګ ډګر یې پرېښود، نو په داسې صورت کې انصافا تاسې لره له خپلو تکالیفو څخه شکایت کولو او زیات خپه کېدلو موقع نه ده پاتې.

قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ

ووایه (ای محمده ! دوی ته) چې دا (مصیبت او تکلیف) له جانبه د نفسونو ستاسې دی !

إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٦٥﴾ وَمَا أَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ فَبِإِذْنِ اللَّهِ وَلِيَعْلَمَ
الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٦٦﴾ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ نَافَقُوا ۚ

بېشکه الله پر هر شي باندې ښه قادر دی (نو قادر دی په نصرت او خذلان هم). او کوم (غم) چې دررسېدلی دی تاسې ته په هغې ورځې کې چې سره یو ځای شوي وو فوځونه پس (هغه) په اذن (حکم) د الله سره (وو)، او لپاره د دې چې معلوم (ښکاره) کړي (الله) مؤمنان، او (بل) لپاره د دې وو چې معلوم (ښکاره) کړي (الله) هغه کسان چې نفاق يې کړی وو.

تفسیر: کله چې الله تعالی اراده وفرمايي بری ورکوي، او کله چې اراده وفرمايي ماتې ور په برخه کوي، مغلوبیت د دې له امله نه دی چې الله تعالی په هغه وخت کې پر بري ورکولو باندې قادر نه وو، بلکه د دې لپاره دی چې ستاسی له کسب او اختیار څخه داسې یو صورت پیدا شوی دی، چې په کلي غلبي ورکولو کې مصلحت نه وو، په هر حال هر څه چې شوي دي د الله تعالی په حکم او مشیئت سره شوي دي، چې د هغه سبب تاسې و ئ، او په هغه کې حکمت دا وو، چې له یوه لوري د هر مخلص مؤمن د ایمان او د اخلاص، او له بل لوري د هر منافق د نفاق درجه ظاهره شي، کامل او ناقص سره جدا، او د مخلص او غیر مخلص په منځ کې هیڅ التباس پاتې نشي، او دا ګرد په علم شهودي سره هم همغسې معلوم کړي، لکه چې په علم غیبي سره ورته معلوم دي.

وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ ادْفَعُوا ۖ

او وویلی شي دغو (بېرته تلونکو منافقانو) ته چې راځئ (احد ته) غزا وکړئ (له کفارو سره) په لاره د الله کې یا مدافعه وکړئ ! (د دښمن له نفسونو او مالونو او کورونو خپلو !).

تفسیر: د جنګ له شروع کېدلو څخه پخوا کله چې رئیس المنافقین عبد الله بن أُبي غوښتل چې له (۳۰۰) سړیو سره بېرته ستانه شي، نو په دې وخت کې هغو ته وویل شول چې :«د جنګ په عین موقع کې چېرې تښتئ؟ که د اسلام په دعوی کې صادق یئ؟ دالله تعالی په لاره کې جنګ و کړئ ! که د الله تعالی په لاره کې د دین لپاره نه جنګېږئ نو د وطني او قومي حمیت او غیرت یا د خپلو اموالو او اولادونو د حفاظت لپاره خو د دښمن مدافعه وکړئ، ځکه که دښمن بری ومونډ، نو په انتقام اخیستلو کې به د مؤمنانو او منافقانو په منځ کې هیڅ تمیز او تفریق نه کوي، او د نورو مسلمانانو په شان به تاسې ته هم نقصان دررسېږي».

قَالُوا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّا تَّبَعْنَاكُمْ ۗ

نو وویل دې (منافقانو) که مونږ پوهیدئ په جنګ نو خامخا به مونږ متابعت کړی وو ستاسې.

تفسیر: یعنې جنګ پېښېدل مونږ ته یقیني په نظر نه راځي، او دا خوشې چې یوه اوازه ده، که مونږ پوهېدو چې په رښتیا سره جنګ پېښېدونکی دی، نو خامخا به مو ستاسې ملګرتیا کوله، یا دا مطلب که کومه منظمه او با قاعده مقابله وای، نو مونږ به له تاسې سره پاتې کیدو، ښه نو دا کومه مقابله ده، چې له یوه جانبه (۳۰۰۰) لښکر، او له بله جانبه یواځې (۱۰۰۰) بې وسلې او بې سامانه مسلمانان وو، دا خو جنګ نه دی، محض خپل ځان په هلاکت کې غورځول دي.

«یا له ﴿لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا﴾ څخه یې داسې ښکارول چې خانه ! که مونږ په جنګي فنونو، اصولو، او ترتیباتو پوهیدئ، نو له تاسې سره به پاتې کېدو، ګواکې په زړه کې یې طعنې ورکولې، چې ځمونږ په مشورو باندې تاسې تګ ونه کړ، او د نورو په نظریو باندې تاسې عمل وکړ، نو مونږ ستاسې په نزد د جنګ له اصوله ناپوهان یو، او تاسې پوهان یئ ! نو د

څه لپاره مونږ له خپلو ځانو سره بیایئ؟»، لنډه یې دا چې د دروغو پلمې یې جوړې کړې، او ښه ته لاړل، الله تعالی د منافقانو په تکذیب کې وایي:

هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَانِ ۚ

دوی کفر ته په دغې ورځې کې (چې دغه خبره یې کوله) ډېر نږدې وو له دوی نه په نسبت سره د ایمان.

تفسیر: منافقان په زړه کافران او په خوله مسلمانان وو، او تش په ژبه له مسلمانانو سره یو ځای وو، د «احد» د جنګ په عین موقع کې دوی له نبي علیه السلام او نورو مسلمانانو څخه جدا او ښه ته شول، او حیلې او پلمې یې جوړې کړې، د دې دوه کارونو څخه د دوی نفاق څرګند شو، او په ظاهر کې هم دوی د ایمان په نسبت کفر ته ډېر نږدې شوي دي، او پخپل دې فعل سره مسلمانانو ته زیان او کفارو ته تقویه رسوي.

يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِمْ مَا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ ۚ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ ﴿١٦٧﴾

وایي دوی (منافقان) په خولو خپلو سره هغه (خبره) چې نشته (پرې تصدیق) په زړونو د دوی کې، او الله ښه پوه دی په هغه څه (هم) چې پټوي یې دوی (په زړونو خپلو کې له حسد او کفره).

تفسیر: یعنې په ژبه خو دوی ﴿لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّا اتَّبَعْنَاكُمْ﴾ ویل، او هغه شی چې د دوی په زړونو کې دی صاف یې نه وایي، د دوی په زړونو کې دا وو: «ښه دی چې مسلمانان مغلوب او ذلیل شي، او مونږ له ډېرې خوښۍ څخه اتڼونه واچوو».

الَّذِينَ قَالُوا لِإِخْوَانِهِمْ وَقَعَدُوا لَوْ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُوا ۗ

هغه (منافقان) چې ویل یې په (حق د) وروڼو خپلو کې حال دا چې دوی (پخپله) ناست وو (له جنګه): که دوی (د احد غازیانو) ځمونږ خبرې منلې وې، نو نه به وو وژل شوي.

قُلْ فَادْرَءُوا عَنْ أَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٦٨﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) نو لرې کړئ تاسې له ځانونو خپلو څخه مرګ که یئ تاسې صادقان (رښتینې په دې خبره کې چې تاسې سره د مرګ دفعه شته).

تفسیر: یعنې که د کور په کیناستلو سره ځانونه ژغورل (ساتل) کیږي، نو ګورو به چې د مرګ مخه به تاسې څرنګه نیسئ، چې تاسې کورو ته ننوځئ، که سره له دې چې په کورونو کې پاتې شوي یئ، بیا هم د مرګي له منګولو ځنې ځانونه نشئ ژغورلئ (بچ کولئ) نو بیا ولې د توریالیو غوندې د جنګ په میدان کې د عزت مرګ نه غوره کوئ.

وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ مِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٧٠﴾ يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٧١﴾

او له سره ګمان مه کوئ (ای محمده یا ای سامعه !) پر هغو کسانو چې وژل شوي دي دوی په لاره د الله (جهاد) کې د مړو (مړه نه دي)، بلکه ژوندي دي په نزد درب خپل رزق ورته ورکولی

شي (له جنتي مأکولاتو او مشروباتو څخه). په دې حال کې چې خوشاله دي دوی په هغه شي باندې چې ورکړي دي دوی ته الله له فضله خپله، او خوشالیږي دوی (په راتلو د) هغو کسانو باندې چې لا نه دي رسیدلي دوی تر هغو پورې وروسته د دوی نه، په دې شان سره چې نه به وي (هیڅ قسم) وېره په دوی باندې، او نه به دوی (هیچېرې) غمجن کیږي (د ثواب په نقصان سره). خوشالیږي دوی په نعمت باندې له (جانبه د) الله، او (ددې په) فضل باندې، او (په دې چې) بېشکه الله تعالی نه ضایع کوي اجر د مؤمنانو (بلکه پوره یې ورکوي).

تفسیر: یعنې د کور ناستي د مړک مخه نشي نیوی، هو ! سړی له هغه مړکه بې برخې کوي، چې د مړک په ځای ورته ابدي ژوندون ویلی شي، شهیدانو ته وروسته له شهادته یو مخصوص ډول ژوند ور په برخه کیږي، چې نورو مړو ته هغسې ژوند نه ورکول کیږي، دوی ته د الله تعالی ممتاز قرب حاصلیږي، او په ډېرو لویو درجاتو او مقاماتو باندې فائز کیږي، د جنت رزق دوی ته په ازادۍ سره وررسیږي.

څرنګه چې مونږ په یوه طیاره کې کینو، او په ډېر لږ وخت کې هر چېرې چې مو زړه وغواړي؛ الوځو او درومو، د شهیدانو ارواح هم د شنو مرغانو په ججورو کې د جنت ننداړې کوي، د دې شنو مرغانو کیفیت او لویوالی الله تعالی ته معلوم دی، د هغه ځای شیونه ځمونږ د خیال په احاطه کې کله راتلی شي، په دې وخت کې شهیدان به بېشانه خوشحال وي، بیا نه یواځې دا چې دوی پخپلو احوالو باندې دومره خوښ او خوشحال دي، بلکه د هغو مسلمانانو غم هم ورسره وي چې له دوی څخه وروسته پاتې دي، او په في سبیل الله «جهاد» او نورو خیریه وو امورو کې مشغول دي، هغوی هم که ځمونږ په شان د الله تعالی په لاره کې ووژل شي، یا اقلا د ایمان له دولت سره ومري، د دوی له ایماني رتبې او حیثیت سره سم همداسې خوندور او بې وېرې ژوندون به ور په برخه کیږي.

په ځینو روایاتو کې راغلي دي چې د «احد» یا د «بئر معونه» شهیدان جنت ته رسیدلي دي، له الله تعالی څخه یې تمنا کړې: «کاشکې ځمونږ د دې عیش او تنعم خبر ځمونږ نورو وروڼو ته څوک ورسوي، چې هغوی د دې خوندور ژوند په لوري ژر راوځغلي، او ځانونه له مونږ سره ونښلوي، او له «جهاد» ځنې خپل ځانونه هیڅ ونه ساتي»، حق تعالی وفرمایل: چې زه یې ور رسوم، نو یې دا آیت نازل او دوی یې هم مطلع کړل، چې مونږ ستاسو له امیدونو سره سم دا خبر دنیا ته وروړساوه، نو هغه شهیدان له دې ځنې لا خوشاله شول.

اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَصَابَهُمُ الْقَرْحُ ۚ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۲﴾ اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا ۖ وَّقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ﴿۱۷۳﴾

هغه کسان چې حکم یې منلی دی د الله او (حکم یې منلی دی د) رسول (د الله) پس له هغه چې رسېدلی وو دوی ته زخم (تکلیف مشقت) شته لپاره د هغو کسانو چې نیکي یې کړې له دوی نه (د الله د حکم په منلو سره) او پرهېزګاري یې کړې ده؛ اجر ډېر لوی (د جنت). (دوی) هغه کسان دي چې وویل دوی ته (ځینو) خلقو چې : بېشکه (دمکې) خلق په تحقیق سره راټول شوي دي ستاسې (د جنګ) لپاره، نو ووېرېږئ ! له دوی نه (یا) په تحقیق سره ټول کړی یې دی (سامان د مقابلې) ستاسې لپاره؛ نو ووېرېږئ له دوی نه، پس (دغو ویرولو) لا زیات کړ ایمان د دوی(یقین زړورتوب)، او وویل دوی: بس دی مونږ ته الله، اوځومره ښه وکیل (کار جوړوونکی) دی (الله).

تفسير: کله چې ابو سفيان له «احد» څخه د مکې معظمې په لوري بېرته روان شو، نو په لاره کې دا خيال ورته پيدا شو، چې له مونږ څنې لويه غلطي وشوه، چې مجروح او مغلوب مسلمانان مو هم همغسې پرېښودل، او بېرته ترې راغلو، نو يې جرګه سره وکړه، او دا يې سره غوټه کړه چې راځئ ! بېرته مدينې ته لاړ شو، او د هغو قصه بيخي پای ته ورسوو، کله چې دا خبر رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورسېد، نو اعلان يې وکړ، «هغه غازيان چې پرون له مونږه سره په غزا کې شريکان وو، نن دې بيا د دښمن د تعقيب لپاره تيار شي !».

مجاهدين سره له دې چې سترې او ستومان او له زخمونو څنې يې وينې بهېدې، د الله تعالى او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې دعوت ځواب يې په (لبيک) سره ووايه، رسول الله مبارک د مجاهدينو د لښکر سره تر يو ځای پورې چې (حمراء الأسد) نومږي، او له مدينې منورې څخه تقريبا اته ميله لرې دی؛ لاړل، د ابو سفيان په زړه کې د دې خبرې له اورېدلو څخه چې مسلمانان ځمونږ د تعقيب لپاره را درومي، سخته وېره ولوېده، او د خپلې دويم ځلې حملې اراده يې فسخ کړه، او په ډېر تلوار د مکې معظمې په لوري په منډو شول.

د عبد القيس يوه تجارتي قافله د مدينې منورې په لوري راتله، ابو سفيان د دې قافلې سرېو ته څه رشوت ورکړ، چې: «تاسې په مدينې منورې کې داسې اخبار نشر کړئ، چې د هغو له اورېدلو څخه مسلمانان له مونږ مکيانو څنې وويريږي، کله چې هغوی په مدينې منورې کې دا خبر مشهور او خور کړ، چې «مکيانو بيا يو لوی لښکر او ډېر سامان د مسلمانانو د بېخ ويستلو په نيت سره ټول کړی دی»، ددې د اورېدلو په اثر مسلمانانو د خوف او وېرې په ځای وويل: ﴿حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ﴾ د ټولې دنيا په مقابل کې مونږ لره يواځې الله تعالى کافي دی ! نو په دې مناسبت دا آيت نازل شو.

فَانْقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ ﴿١٧٤﴾

نو بېرته راوګرځېدل (دا مؤمنان) په نعمت سره له (جانبه د) الله او (په) فضل (احسان او رحمت سره له الله نه) چې ونه رسېده دوی ته هيڅ بدي (نه زخم نه قتل نه هزيمت) او تابعان شول دوی د رضامندۍ د الله، او الله څښتن (مالک) د فضل (احسان، رحمت) ډېر لوی دی.

تفسير: يعنې د الله تعالى فضل ته وګورئ ! چې نه جنګ او جګړه ورپېښه شوه، نه کوم اغزی د دوی په پښو کې مات شو، او ويړيا يې ثواب وګاټه، او له تجارت څنې يې ګټې واخيستلې، او پر دښمنانو باندې يې خپله وېره کښوده، او خپل شان او شوکت يې ور څرګند کړه، او د الله تعالى له خوښۍ سره بېرته صحيح سالم او (روغ، رمټ) خپلو کورونو ته وګرځېدل

تنبيه: د «حمراء الأسد» په غزا کې له يوې تجارتي قافلې سره د مالونو بيع او شراء شوې وه، او مسلمانانو له هغه تجارت څخه ډېره ګټه اخيستې وه، اغلبا له «فضل» څخه همدغه مالي نفع مراد ده.

إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧٥﴾

بېشکه دا سړی شيطان دی چې ويروي تاسې (ای مؤمنانو) له دوستانو خپلو (چې کفار دي) نو مه ويرېږئ تاسې له کفارو ! او وويرېږئ زما (د أحکامو له ترک) څخه، که يئ تاسې مؤمنان (په حق سره).

تفسير: په ﴿يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ﴾ کې اول مفعول محذوف دی، «أي يخوفكم أولياءه الكفار»، يعنې څوک چې له هغه لوري څخه راغی او ويروونکي خبرې خپروي هغه شيطان دی، يا د شيطان په اغواء سره داسې کوي، چې له دې نه د هغه

مقصد د ادی چې د خپلو لویو ملګرو او د نورو خپلوانو خوف او وېره پر تاسې باندې واچوي، نو که تاسې مؤمنان یئ، نو له دې شیطانانو ځنې بیخي مه ویرېږئ ! او یوائې له ما ځنې وویرېږئ !.

وَلَا يَحْزُنْكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ ۚ إِنَّهُمْ لَنْ يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا ۗ يُرِيدُ اللَّهُ أَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا فِي الْآخِرَةِ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٦﴾

او غمجن دې نه کړي تا هغه کسان چې منډې وهي (جلتي کوي) دوی په جانب د کفر (د منافقانو او مرتدانو)، بېشکه دوی به له سره هیڅ ضرر ونه رسوي الله ته د هیڅ شي (بلکه ضرر رسوي ځانونو خپلو ته)، اراده لري الله د دې چې مقرر نه کړي د دوی لپاره هیڅ برخه (نعمت) په آخرت کې او (مقرر) دی دوی لره عذاب ډېر لوی.

إِنَّ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ لَنْ يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٧﴾

بېشکه هغو کسانو چې اخیستلی یې دی (بدل کړی یې دی) کفر په ایمان سره؛ له سره به ضرر ونه رسوي دوی الله ته هیڅ شی، او (مقرر دی) دوی ته عذاب دردناک (د دوزخ).

تفسیر: دغه تکرار د تاکید لپاره دی، او د منافقانو او مرتدانو له تخصیص څخه وروسته ټولو کفارو ته شامل دی، یعنې هغه کسان چې فطري ایمان یې بدل او کفر یې اختیار کړ، اعم له دې نه چې یهودي وي که نصراني وي، مشرک وي که منافق، یا بل څوک، او دوی ټول سره یو ځای هم شي، خو بیا هم دوی د الله تعالی هیڅ شی نشي خرابولی، هو ! دوی په خپل لاس خپله پښه په تبر وهي، چې په نتیجه کې به د دردناک عذاب مورد ګرځي.

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ خَيْرٌ لِأَنْفُسِهِمْ ۚ إِنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ لِيَزْدَادُوا إِثْمًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ ﴿١٧٨﴾

او ګمان دې نه کوي هغه کسان چې کافران شوي دي؛ چې بېشکه دا چې مهلت ورکوو مونږ دوی ته خیر (غوره) دی لپاره د ځانونو د دوی، (داسې نه ده بلکه) بېشکه هم دا خبره ده چې تل مهلت ورکوو مونږ دوی ته لپاره د دې چې زیاته کړي د دوی ګناه، او (مقرر) دی دوی ته عذاب سپکوونکی.

تفسیر: یعنې امکان لري چې کافران خپل اوږد عمر، خوښي، خوشالي، دولت، ثروت، عزت، او د نورو شیانو زیادت ته وګوري، هسې اټکل وکړي: «که مونږ په ربنتیا سره مغضوب او مطرود وای، نو دومره پراخي او مهلت ولې راکاوه کېږي؟ او دهسې ښه ژوندون او ارام په حالت کې د څه لپاره شپې او ورځې تېروو؟» نو واضحه دې وي، چې دغه مهلت ورکول د دوی په حق کې کومه ښه خبره نه ده، او د مهلت ورکولو نتیجه به هم داسې وي، چې دوی به بیخي په ګناهونو کې ډوبېږي، او د کفر په حالت کې به مري دوی هسې فکر کوي چې مونږ په خورا لوی عزت کې یو، حال دا چې ډېر ذلیل او خورا سپکوونکی عذاب د دوی لپاره تیار دی، نو اوس قضاوت او ښه فکر په کې وکړئ ! چې دغه مهلت د هسې کسانو په حق کې ښه دی که ؟ (نعوذ بالله من شرور أنفسنا).

مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ ۗ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِي مِنْ رُسُلِهِ مَنْ يَشَاءُ ۖ

نه دی الله چې پرېږدي مؤمنان په هغه حال (د اختلاط) چې یئ تاسې (ای خلقو !) پر هغه، تر څو چې جلا کړي (الله) ناپاکه له پاکه ځنې، او نه دی الله چې خبر کاندي تاسې په غیب باندې (چې

د منافقانو تميز دى له مخلصانو څخه)، وليكن الله غوره كوي له رسولانو خپلو څخه چې اراده وفرمايي (د غوره كولو يې).

تفسير: يعنې همغسې چې د دنيا خوشالي ا و مهلت د كفارو په حق كې د مقبوليت دليل نه دى، همداسې كه مخلصو مسلمانانو ته مصيبتونه ورپېښ شي، نو هغه هم د دې خبرې دليل نشي كېدى، چې هغوى د الله تعالى په نزد مغضوب دي.

خبره داده چې الله تعالى مسلمانان هسې بې خبره نه پريږدي، چې تر اوسه پاتې دي، يعنې ډېرو كفارو به د نفاق له لارې د اسلام كلمه ويله، او د تېر ايستلو لپاره به له دوى سره ګډېدل، چې د دوى د ظاهري احوالو په لحاظ د منافق د لفظ ويل ورته مشكل وو، نو ځكه ضروري ده چې الله تعالى داسې واقعات او حالات وړاندې كړي چې د هغو په وسيله پاك، ناپاك، اومه، او پاخه په ښكاره ډول سره جلا شي.

بېشكه چې الله تعالى ته آسان وو، چې ګرد مسلمانان بې له امتحانه د منافقانو له نومونو او كارونو څخه خبر كړي، ليكن د هغه حكمت او مصلحت د دې مقتضي نه دى، چې ټول خلق له دې غيبي امورو ځنې خبر كړي، هو ! دهسې كارونو لپاره خپل رسولان انتخابوي، او د څومره غيبي اطلاعاتو او يقيني اخبارونو د اطلاع وركولو اراده چې وفرمايي هم هغومره وركوي.

خلاصه يې داسې شوه چې «عامو خلقو ته بې واسطه د كومې پتې خبرې يقيني اطلاع نه وركوله كيږي، او انبياء عليهم السلام ته هومره اطلاع وركوي، چې د الله تعالى اراده وي».

فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ۚ وَإِن تُؤْمِنُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٩﴾

نو ايمان ولرئ تاسې (اى مؤمنانو !) پر الله او پر رسولانو د الله، او كه په ايمان قائم پاتې اوسئ ! او پرهېزګاري وكړئ (له بدو كارونو) پس دى تاسې ته اجر ډېر لوى (په جنت كې).

وَلَا يَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ هُوَ خَيْرًا لَّهُم ۖ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا۟ بِهِۦ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ

او ګمان دې نه كوي له سره هغه كسان چې بخيلي كوي دوى په هغه شي چې ورکړى دى دوى ته الله له فضله خپله، چې دا بخل خير دى (غوره دى) دوى ته، بلكه دا (بخل ډېر بد) شر دى دوى ته، ژر به په غاړه كې ورته اميل كړ شي هغه چې بخيلي كړې ده دوى په هغه شي كې؛ په ورځې د قيامت.

تفسير: يهودان، او منافقان هم هغسې چې د جهاد په موقع كې تښتي، د مال د صرفولو په وخت هم ځان بچ كوي، خو څرنګه چې له «جهاد» ځنې تښتېدل او د څو ورځو مهلت حاصلول د دوى په حق كې چندان ښه نه دي، هم دا راز د بخل او شومتيا له امله ډېر مال غونډول هم دوى ته هيڅ ګټه نشي ورسولى.

كه په دنيا كې كوم مصيبت دوى ته ورپېښ شو، نو د قيامت په ورځ كې به يقينا دا ټول شوى مال د عذاب په صورت د دوى په غاړه كې طوق (غاړكى) غوندې ورلويږي، په دې ضمن كې يې مسلمانانو ته هم يادونه وكړه چې د «زكات» په وركولو او د نورو ضروري مصارفو په صرفولو كې هيڅكله نه ښايي چې ځانونه وسپموي (بچ كړي)، كه نه هر هغه چا چې په بخل او حرص او نورو سپكو خصلتونو كې د يهودانو منافقانو دستور اختياروي، هغه ته به د

هغه د درجې سره سم سزا ورکوله کیږي، دوی دې منتظر اوسي لکه چې له صحیحه وو احادیثو څنې ثابته ده، «چې د زکات د مانعینو مال به د سخت زهر لرونکي مار په صورت متمثل کیږي (جوړیږي) او د دوی تر غاړې به چاپیریږي»، نعوذ بالله منه !.

وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

او خاص الله لره دی میراث د آسمانونو او د ځمکې (د دغو دواړو د اهل فنا څخه به وروسته هر څه هم هغه حقیقي وارث او مالک ته پاتې کیږي).

تفسیر: یعنې آخر تاسې مړئ، او ستاسې ګرد مال د هغه په لاس کې پاتې کیږي.

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۸۰﴾

او الله پر هغو (کارونو هم) چې کوئ (یې) تاسې ښه خبردار دی (نو د ټولو جزا به درکړي).

لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ وَّنَحْنُ اَغْنِيَآءُ ۘ

خامخا په تحقیق اورېدلې ده الله خبره د هغو کسانو چې ویلي یې وو: بېشکه الله فقیر دی، او مونږ غنیان یو (چې له مونږه قرض غواړي).

تفسیر: یعنې یواځې هم دومره نه ده چې یهودان د ډېر بخل له لاسه د پیسو په صرفولو باندې نه پوهیږي، بلکه هر کله چې د الله تعالی په لاره کې د صرفولو حکم اوري، نو ټوکې کوي او د حق تعالی په جناب کې سپین سترګي کوي، او له چټې خبرو څنې نه شرمیږي، لکه څه وخت چې د ﴿مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا﴾ آیت نازل شو، ویې ویل چې: الله ثعالی له مونږ څنې قرض غواړي، نو الله تعالی فقیر او محتاج او مونږ غنیان یو، حال دا چې یو ناپوه او جاهل هم په دې خبره باندې پوهېدی شي، چې د (انفاق في وجوه الخیر) تعبیر په قرض سره د انتهایي رحمت او شفقت اظهار دی، او دا ښکاره خبره ده چې الله تعالی مونږ ته امر کوي چې د هغه له راکړي مال څنې د خپلو مصالحو، دیني، او دنیوي ګټو لپاره مصرف وکړو، او د ده لوی ذات ته ځمونږ له دې صرفولو هیڅ یوه فائده نه رسیږي، دا د هغه لوی کرم او احسان دی، چې د هغو د صرفولو ډېر ښه معاوضه ورکول یې هم پخپله ذمه نیولي دي، او هغه یې د قرض (پور) په لفظ سره اداء کړې ده، او دا لزوم یې لا زیات مؤکد کړی دی، مګر یهودان د خپل باطني خبث په سبب د الله تعالی دې احسان منلو په ځای په داسې الفاظو پورې خاندي، نو ځکه الله تعالی فرمایي چې: ما ستاسې دا ګردې خبر اورېدلي دي، او د هغو په نسبت هره کارواېي چې لازمه وي کوم یې، تاسې منتظر اوسئ !.

سَنَكْتُبُ مَا قَالُوْا وَقَتْلَهُمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّنَقُوْلُ ذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۱۸۱﴾

ژر به مونږ لیکلي و ساتو هغه خبرې چې دوی ویلي دي او (لیکلي به وساتو) وژل (د نیکونو) د دوی انبیاوو لره په ناحقه سره (په خپل اعتقاد سره هم)، او وبه وایو مونږ (دوی ته چې) وځکئ عذاب د اور سوځوونکي !.

تفسیر: یعنې له عامې ضابطې سره سم ستاسې دا ملعون او ناپاکه اقوال د سیئاتو په هم هغه دفتر کې لیکو؛ چې هلته ستاسې د قوم ملعون او ناپاکه افعال هم درج دي، لکه د معصومو انبیاوو علیهم السلام په نا حقه سره وینې تویول، ځکه همغسې چې دا نا مناسبه جمله ستاسې د الله تعالی د پېژندلو یوه نمونه ده، هغه نامناسبه کار هم ستاسې د انبیاوو له تعظیم

څخه یوه نمونه ده، کله چې ستاسې دا پوره عملنامه در وړاندې کړه شي، نو هلته به وویل شي: چې اوس د خپلو بدیو او شرارتونو خوند وڅکئ ! او همغسې چې تاسې په طعن او تمسخر سره د اولیاء الله «رحمهم الله» زړونه سوځول، نو اوس تاسې هم د الله تعالی د عذاب په بټې کې وسوځئ !.

ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۱۸۲﴾

دا (عذاب) په سبب د هغه دی چې پخوا لیږلي دي (کړي دي) لاسونو ستاسې او بېشکه چې الله نه دی ظلم کوونکی په بندګانو.

تفسیر: یعنې هر څه چې یې ګټلي وو؛ هم هغه یې په مخه ورغلل، د الله تعالی له جانبه د یوې ذرې په اندازه هم ظلم نه کیږي، لکه د «النساء» په (۴۰) آیت (۶) رکوع کې داسې لولو: ﴿إِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ﴾.

اَلَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ اِلَيْنَآ اَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُوْلٍ حَتّٰى يَاْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَاْكُلُهُ النَّارُ

هغه کسان چې وایي: بېشکه الله پیغام (وصیت) کړی دی مونږ ته چې ایمان به نه راوړو مونږ په هیڅ رسول تر هغه پورې چې راوړي مونږ ته (هسې) قرباني چې یې وخوري اور.

تفسیر: له ځینو رسولانو ځنې داسې معجزې ظاهرې شوي دي، چې قرباني یا بل کوم شی به یې د الله تعالی په نامه نذر کاوه، نو له آسمانه به اور راته، او هغه به یې خوړ، او دا به د قبول علامه وه، اوس یهودان بهانه کوي چې مونږ ته داسې حکم شوی دی،چې له هر چا څخه چې دا معجزه ونه وینئ ! په هغه باندې یقین مه کوئ !او دا محض د دروغو بهانې دي، ځکه چې دا راز حکمونه هیڅېرې د هغو په کتابونو کې نه وو، او نه نن ورځ په کې شته، او نه د ټولو پیغمبرانو په نسبت دا ادعا ثابته کېدی شي، چې هغوی ته هسې کومه معجزه ورکړی شوې وه، هر رسول علیه السلام ته الله تعالی د هغه د وخت او زمان سره سم مناسبې معجزې ورکړي دي، او دا لازم نه دي چې هر نبي علیه السلام ته دې هم هغه یوه معجزه ورکړي، چې د هغه له ورښودلو څخه د هغه صداقت ثابت شي.

قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِيْ بِالْبَيِّنٰتِ وَبِالَّذِيْ قُلْتُمْ فَلِمَ قَتَلْتُمُوْهُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۸۳﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته چې) په تحقیق راغلي وو تاسې ته (دېر) رسولان پخوا له ما په ښکاره وو معجزو او په هغه شي سره چې ویلي دي تاسې (چې قرباني ده بیا) نو ولې ووژل (نیکونو) ستاسې هغوی که یئ تاسې صادقان (چې هم هغه رسول به منئ چې قرباني یي په اور کې وسوځوي).

تفسیر: یعنې که په رښتیا سره پخپلې دې دعوی کې تاسې رښتین یئ؟ او پر دې خاصې معجزې باندې ستاسې ایمان راوړل موقوف دي، نو تاسې پخوا له دې د هسې انبیاوو علیهم السلام په وژلو باندې ولې جرأت وکړ، چې د خپل صداقت لپاره له نورو ښکاره وو معجزاتو سره دا معجزه یې هم درښوولې وه، ستاسې د اسلافو دا فعل چې تاسې هم پر هغه باندې راضي یئ، او تر نن ورځې پورې پرې خوښي کوئ، آیا د دې خبرې دلیل نه دی چې دا ټولې ستاسې پلمې (بهانې) حیلې، فساد او سرزوري ده چې وایئ: هر رسول علیه السلام تر څو همدا خاصه معجزه را ونه ښیي؛ مونږ به یې نه منو.

فَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ جَآءُوْ بِالْبَيِّنٰتِ وَالزُّبُرِ وَالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ﴿۱۸۴﴾

پس که نسبت د دروغو وکړي دوی تاته (ای محمده ! نو مه خپه کیږه ! ځکه) پس په تحقیق

نسبت د دروغو کړی شوی وو ډېرو رسولانو ته پخوا له تا، چې راغلي وو دوی په ښکاره وو معجزو او په صحیفو (د شرعي احکامو) او په کتاب روښان (بیانوونکی د حلال او حرام).

تفسیر: تاسې ته تسلي او ډاډ درکولی شي، چې د دې ملعونانو له دې کړو بحثونو او سر زوریو ځنې مه خپه کېږئ ! او مه د نورو مکذبینو څه پروا کوئ ! له تاسې ځنې پخوا نور داسې رسولان هم دروغجن بلل شوي دي، چې معجزې او وړوکې صحیفې او لوی کتابونه یې له ځانه سره راوړي وو، د صادقو انبیاوو علیهم السلام تکذیب د معاندینو پخوانی عادت دی، او تاسې ته ای محمده ! «صلی الله علیه وسلم» کومه نوې خبره نه ده درورانديې شوې.

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۖ

هر یو نفس څکونکی د مرګ دی، او بېشکه همدا خبره ده چې پوره به درکړی شي تاسې ته اجرونه ستاسي په ورځ د قیامت کې.

تفسیر: یعنې د مرګې خوند به هر څوک څکي، وروسته له هغه به په قیامت کې هر مصدق او مکذب (ټول نیکانو او بدانو) ته د هغه دعمل پوره بدل ورکول کیږي، له کامل او پوره څخه ممکن دا مطلب وي چې د هغه لږ څه بدل به د قیامت څخه د مخه مثلا په دنیا یا په قبر کې به هم ورته رسیږي.

فَمَن زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ۗ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ ﴿١٨٥﴾

نو هر څوک چې لرې کړی شو له اوره (د دوزخ) او داخل کړی شو جنت ته، نو په تحقیق مراد یې وموند (بریالی شو)، او نه دی ژوندون لږ خسیس مګر پنګه د غولېدلو، (چې نفعه یې لږه او فنا یې ژر ده).

تفسیر: یعنې د دنیا دا مؤقتي بهار (سمسور) ډول او سینګار ډېر تېر ایستونکي شیان دي، چې په هغو باندې ډېر ناپوهان تېروځي، او بیخي په دنیوي امورو کې مشغول او له اخروي چارو ځنې غافلیږي، حال دا چې د هر انسان اصلي بری په دې کې دی چې پخپل دنیوي ژوندانه کې د خپل آخرت لپاره ګټې او هسې عملونه وکړي، چې د الله تعالی د عذاب ځنې سړی وژغوري (وساتي)، او جنت ته یې ورسوي.

تنبیه: په دې آیت کې د هغو ځینو متصوفینو تردید هم وشو، چې دوی هسې ادعا کوله «مونږ نه جنت غواړو، او نه له دوزخه ویرېږو» معلومه شوه چې له دوزخ ځنې ځان ساتل او جنت ته ننوتل اصلي کامیابي او اساسي بری دی، او هیڅ یوه ډېره اعلی کامیابي د جنت له هستوګنې ځنې د باندې د هیڅا په برخه نشي کېدی، په حدیث کې راغلي دي: «وحولها نُدَنْدِن». او د الله تعالی د لیدلو نعمت هم په جنت کې حاصلیږي.

الله تعالی دې له خپله فضله او کرمه، مونږ ته هم دا بری او رحمت را په برخه کړي ! آمین.

لَتُبْلَوُنَّ فِي أَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ۖ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا أَذًى كَثِيرًا ۚ وَإِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿١٨٦﴾

قسم دی چې خامخا وبه ازمویل شئ تاسې خامخا په مالونو خپلو (په زکات) او (په) ځانونو خپلو (په جهاد) او خامخا به واورئ تاسې بالضرور له هغو کسانو چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب

له تاسې څخه پخوا، او له هغو کسانو چې شریکان نیسي (په الله پورې)؛ ضرر (بد ویل) ډېر، او که صبر و کړئ (په طاعت او مصیبت او له معصیت) او پرهېزګاري وکړئ تاسې (له بدو کارونو) نو بېشکه دا (صبر او تقوی) د همت له کارونو ځنې دی.

تفسیر: دا خطاب مسلمانانو ته دی چې وروسته له دې به هم په ځان او مال ستاسې ازموینه کیږي !، او هر راز ځان جارولو (قربانولو) ته به اړ کیږي ! وژل کېدل، زخمي کېدل، د قید او بند تکلیفونه پر ځان ګالل، ناروغېدل، د مالونو زیانېدل، له خپلو خپلوانو ځنې جلا کېدل، او همدا راز د نورو مصیبتونو ګالل به درپېښیږي، او هم به د کتابیانو او د مشرکانو له ژبې ډېرې زړه دردوونکې خبرې آورئ !، چې د دغو ګردو علاج په صبر او تقوی سره کیږي، که تاسې په صبر او استقلال او پرهېزګاری سره د دغو سختیو مقابله وکړئ؛ نو دا به د ډېر همت او د اولوالعزمۍ کار وي، چې د هغه تاکید حق تعالی فرمایلی دی.

وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ فَنَبَذُوهُ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ ﴿١٨٧﴾

او (یاد کړه) هغه وخت چې واخیست الله عهد محکم له هغو کسانو ځنې چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب، چې خامخا به بیانوئ تاسې دا (کتاب) خلقو ته، او نه به یې پټوئ تاسې، نو وغورځاوه دوی دا (کتاب) وروسته له شاوو خپلو، او وایې خیست په (عوض د) دې (کتاب) قیمت لږ، نو بد اخیستل د دوی (دغه اخیستل) دي (یا نو څومره بد دی هغه شی چې دوی یې اخلي).

تفسیر: یعنې د اهل الکتاب له علماوو ځنې عهد اخیستی شوی وو، هغه احکام او بشارتونه چې په کتاب الله کې دي؛ ښایي هغه په ښه ډول نورو خلقو ته وروښیئ ! او هیڅ یوه خبره مه ترې پټوئ ! او مه یې معناګانې بدلوئ ! مګر دوی هیڅ ځمونږ د دې امرونو پروا ونه کړه، او د لږې ګټې لامله یې هغه ګرد عهدونه او پیمانونه مات او شرعي حکمونه یې بدل، او د الله تعالی په آیتونو کې یې لفظي او معنوي تحریفات وکړل، د هغه شي ښکاره کول چې ډېر زیات ضروري وو، یعنې د فخر الأولین خاتم المرسلین صلی الله علیه وسلم بشارت یې بیخي پټ کړ.

دلته یې ضمنا ځمونږ اسلامي علماوو ته هم تنبیه وفرمایله، چې که تاسې د دنیا په مینه کې اخته شوي یې هسې مه کوئ ! (بلکه په هر وخت ، هر ځای او د هر چا په مقابل کې امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوئ ! او هیڅکله او هیڅېرې شرعي احکام له خلقو ځنې مه پټوئ ! ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هم فرمایلي دي: «هر چا چې پټ کړ علم له اهل د علم څخه؛ قیضه به شي په قیضه د اور سره».

لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوْا وَّيُحِبُّونَ أَن يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٨٨﴾

له سره مه کوه ګومان (ای محمده !) په هغو کسانو چې خوشالیږي په هغه کار چې کړی دی دوی (د خلقو له بې لارې کولو څخه) او مینه کوي دوی په دې؛ چې وستایل شي دوی په هغه کار چې نه وي کړی (له تمسکه په حق، او دوی ګمراهان دي)، پس له سره مه ګڼه ته دوی خلاصیدونکي له عذاب (بلکه په دوزخ کې دي)، او مقرر دی دوی لره عذاب درد رسوونکی.

تفسير: يهودانو غلطې مسئلې ښوولې، رشوتونه (بډې) يې خوړلې، د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم صفتونه او بشارتونه يې عمدا پټول، او بيا به خوښ وو چې مونږ ښه کار کړی دی، او هيڅوک ځمونږ هسې چالاکی نشي نيولی، او اميدوار وو چې خلق هم ځمونږ تعريفونه (ستاينې) وکړي، او ووايي چې: لوی لوی عالمان، ديندار او حق خوښوونکي دي.

د بل لوري د منافقانو حال هم د دوی له احوالو سره مشابه (ورته) وو، کله چې د «جهاد» موقع راتله؛ دوی پخپلو کورونو کې پټېدل، او پخپل دې پټ کښېناستلو باندې هم خوښېدل، او يو له بله سره به يې ويل: «وګورئ چې مونږ په ښه چالاکی سره خپل ځانونه وژغورل (بچ کړل)».

تنبيه: اګر که په دې آيت کې د يهودانو او منافقانو يادونه ده، مګر ضمنا مسلمانانو ته هم دا مقصد اوراوه کيږي چې، د خرابو کارونو په کولو باندې مه خوښېږئ ! او د ښو کارونو په کولو سره مه مغرورېږئ ! او کوم کار چې ښه نه وي، د هغه په نسبت د تعريف هيله مه لرئ ! بلکه د هغه له کولو ځخه وروسته د هغه د مداحی (ستايلو) هوس مه کوئ !.

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ۝۱۸۹

او خاص الله لره دی سلطنت د آسمانونو او ځمکې (سره له آسمانونو او ځمکې ملکًا وخلقاً وعَبيداً)، او الله پر هر شي باندې ښه قادر دی (نو مسلمانانو ته ثواب، او کافرانو ته عذاب ورکوي).

اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِی الْاَلْبَابِ ۝۱۹۰

بېشکه په پيدا کولو د آسمانونو او ځمکې کې (سره له هغو شيانو چې په دې دواړو کې دي) او په اختلاف د شپې او ورځې کې (چې تل اوږدېږي، لنډېږي، پرله پسې ځي او راځي، کله رڼا کله تياره، کله يخ او کله تودېږي) خامخا دلائل دي (د الله) لپاره د خاوندانو د (خالصو) عقلونو.

تفسير: يعنې کله چې هوښيار انسان د آسمان او د ځمکې په پيدايښت، د هغوی په عجيبو غريبو احوالو او روابطو، او د شپې او د ورځې په مضبوط او محکم نظام کې غور کوي، نو يقين کوي چې دغه مرتبه او منظمه سلسله خامخا د يو کل اختيار، مطلق قادر، او د لوی خالق په لاس کې ده، چې په خپل عظيم قدرت او اختيار سره يې د هر ورځ کې او لوی مخلوق حد بندي کړېده، او هيڅ يو شي ته د دې خبرې مجال نشته، چې د خپل حد او د عمل له دائرې ځنې د باندې پښه کېږدي، که د دې عظيم الشأن مشين يوه پرزه، يا د دې لويې کارخانې يو مزدور هم د هغه على الاطلاق مالک له قدرت، او اختيار ځنې د باندې وای، نو د ټول عالم دا مکمل نظام به له سره ټينګ نه پاتې کېده.

(لنډه دا چې ددې دنيا په ټولو موجوداتو کې د هغه الله جل جلاله په يووالي او يوائې د هغه د بندګی په استحقاق څو څو قسمه دلائل دي، او په دې چې الله تعالى بلا شک او شبهه حکيم، عليم، أحد، صمد، رحيم، قادر او قاهر دی، نو يوائې همغه د عبادت د ټولو أنواعو مستحق دی.

الَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيٰمًا وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِهِمْ

دغه (عاقلان) هغه کسان دي چې يادوي الله په ولاړې او په ناستې او په اړخونو خپلو (چې پراته وي).

تفسير: يعنې په هيڅ حال کې له الله تعالى ځنې نه غافليږي، او د هغه ياد تل تر تله د هغوی په زړه او ژبه جاري وي، لکه چې په حديث کې د رسول الله مبارک په نسبت عائشې صديقې رضي الله عنها فرمايلي دي: «كان يذكر الله على كل

أحيانه»، چې په ولاړې لمونځ نشي کولی، په ناستې سره دې لمونځ اداء کړي، او که په ناستې لمونځ نشي کولی، نو په ملاستې دې لمونځ ادا کړي.

وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿١٩١﴾

او فکر کوي دوی په پیدایښت د آسمانونو او ځمکې (او د ما فیهما) کې، (نو وایي) ای ربه ځمونږه ! نه دی پیدا کړي تا دا مخلوقات عبث (بې حکمته)،پاکي ده تا لره (له ټولو عیبونو) نو وساته مونږ له عذابه د اور (د دوزخ نه) !.

تفسیر: یعنې له ذکره او فکره وروسته اشاره یې وفرمایله چې: هر هغه ناپوه او احمق چې د هسې صافو او صریحو دلائلو او آثارو له لیدلو څخه وروسته بیا هم الله جل جلاله نه پیژني، یا د الله تعالی شان وړوکی ګڼي، یا د عالم دا کارخانه چې (بېکاره)، عبث، او لوبې بولي، نو د الله تعالی دربار له دې ټولو هزلیاتو، خرافاتو، او چتې (فضول) خبرو ځنې پاک او صاف دی.

له دې آیت ځنې دا راښکاره شوه، چې په آسمان او ځمکه او نور قدرتي مصنوعاتو کې غور او فکر کول هلته محمود کېدی شي، چې نتیجه یې د پاک الله یادول، او د آخرت په لوري توجه وي، پاتې شول هغه ماده پرستان چې د دې قدرتي مصنوعاتو د تارونو په حلقو کې نښتي دي، او د خالق تر صحیح معرفت پورې نشي رسېدی، اګر که دنیا هغه لوی محقق او د ساینس ښه عالم وبولي، مګر د پاک قرآن په ژبه هغه له «أولوا الألباب» ځنې نه دی، بلکه په اوله درجه جاهل او احمق دی.

رَبَّنَا إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ ۖ

ای ربه ځمونږه ! بېشکه ته هر څوک چې داخل کړې اور (دوزخ) ته نو په تحقیق رسوا کړ تا هغه (ای ربه !).

تفسیر: څومره چې په دوزخ کې څوک پاتې شي، هومره خوار او رسوا ګڼه شي، نو د دې قاعدې سره سم د کفارو لپاره دائمي رسوایي ده، پڅه هغو آیتونو کې چې له عامو مؤمنانو څخه د خزي (رسوایۍ) نفي کړی شوې ده، هلته دې د هغې ځنې هم داسې وفهمیږي ! (چې مسلمان ته دائمي رسوایي نشته).

وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿١٩٢﴾

او نشته ظالمانو (کافرانو) ته هیڅ مددګاران (د عذاب په دفعه کې).

تفسیر: یعنې الله تعالی چې د دوزخ اچولو ته د چا په نسبت اراده وفرمایي، بل څوک د هغه حمایت نشي کولی، او نه به د شفاعت اجازه ورکړه شي، هو ! د هغو لپاره به چې په اول یا په آخر کې یې پرېښودل، یا معافول مقصود وي (لکه ګناهګاران مؤمنان) د هغوی لپاره به شفعاوو ته اجازه ورکړی شي، او وروسته له شفاعته بخښل کیږي، او دا مطلب له دې آیت نه مخالف نه دی، بلکه له نورو آیتونو او صحیحو احادیثو څخه ثابت دی.

رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِي لِلْإِيمَانِ أَنْ آمِنُوا بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا ۚ

ای ربه ځمونږه ! بېشکه مونږ واورېده (غږ) د یوه آواز کوونکي (چې قرآن یا محمد دی)، بلل یې (خلق) ایمان ته (داسې) چې ایمان راوړئ ! په رب خپل نو ایمان راوړو مونږ (په رب خپل).

تفسير: يعنې نبي کريم (عليه أفضل الصلاة والتسليم) چې په ډېر جګ آواز سره يې ټولې دنيا ته غږ وکړ، يا لوی قرآن چې د هغه غږ هر کور ته رسېدلی دی، لومړی د عقلي ايمان ذکر وو، اوس په «آمنا» کې سمعي ايمان دی، چې په هغه کې ايمان بالرسول او ايمان بالقرآن هم درج دی.

رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ ﴿١٩٣﴾

ای ربه ځمونږه ! نو مغفرت وکړه مونږ ته ګناهونه (لوی) ځمونږ ! او لرې کړه له مونږه، ګناهونه (واړه) ځمونږ، او وفات کړه مونږ (په داسې حال کې چې دا خل اوسو) سره له ډلې د نيکانو.

تفسير: يعنې ځمونږ لويه ګناه را عفوه کړه ! او په وړوکو خرابيو مو پرده واچوه ! او کله چې مونږ بيا ژوندي کوې، د ښو بندګانو په ډله کې مو شامل کړه !.

رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدْتَنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ

ای ربه ځمونږه ! او راکړه مونږ لره هغه چې وعده دې کړې ده تا له مونږ سره په (ژبو د) رسولانو خپلو، اومه رسوا کوه مونږ په ورځې د قيامت کې.

تفسير: يعنې کومې وعدې چې تا د رسولانو په ژبه پر هغو باندې د ايمان او تصديق ځخه وروسته کړي دي، په هغو سره مونږ خوښ او مستفيد کړه !، مثلا په دنيا کې مونږ مسلمانان بالآخره پر اعداء الله باندې غالب او منصور وګرځوه ! او په آخرت کې مونږ په جنت رضوان سره سرلوړي کړه ! او د قيامت په ورځ مو د دوی په لارښوونه بيخي له ادنی رسوايۍ او لرې بې عزتۍ ځخه هم وساته !

إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ ﴿١٩٤﴾

بېشکه ته (ای ربه) نه کوې مخالفت له وعدې (خپلې) نه.

تفسير: يعنې ای ربه ! ستا په لوی دربار کې د وعده خلافۍ هيڅ يو احتمال نشته، او په مونږ کې دا احتمالات شته، نه چې کومه داسې غلطي له مونږ ځنې څرګنده شي، چې د هغې له سببه ستا له وعدو ځنې مستفيد نه شو، نو ځکه دعا کوو چې مونږ ته پر هغو اعمالو د استقامت هسې يو توفيق راکړه ! چې پر هغه ستا له ګردو وعدو ځخه فائده واخلو !.

فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ ۖ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ ۖ

پس قبولې کړې دوی لره (دا دعاوې) رب د دوی (په دې شان چې) بېشکه زه نه ضايع کوم عمل د هيڅ عمل کوونکي له تاسې نه، نارينه وي (دا عامل) يا ښځه وي، (ځکه چې) ځينې ستاسې دي له ځينو نورو (او ماته په مکافات کې ټول سره يو يئ).

تفسير: يعنې نارينه وي که ښځه، ځمونږ په دربار کې د هيڅا خواري او تکليف نه ضايع کيږي، هر څوک چې هر کار وکړي، د هغه ثمره به مومي، دلته عمل شرط دی، د نېک عمل په وسيله ښځه هم د خپل استعداده سره سم د آخرت هغه لوړې درجې حاصلولی شي، چې نارينه يې حاصلولی شي، کله چې تاسې نارينه او ښځې د انساني يوې نوعې افراد يئ، او له يوه آدم عليه السلام ځخه پيدا شوي يئ ! او په اسلامي رسۍ کې سره ترلې يئ، او يو اجتماعي ژوندون لرئ، او د معاشرت په چارو کې ګرد سره شريکان يئ؛ نو عملونه او د هغو ثمرات مو هم يو شی وګڼئ !.

په روایتونو کې راغلي دي چې رسول صلی الله علیه وسلم ته ام سلمه رضي الله تعالی عنها عرض وکړ: «یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ! په قرآن کې هیڅهرې ځمونږ د ښځو د هجرت او نورو حسنه اعمالو په نسبت کوم خاص ذکر نه دی راغلی»، نو د هغې ځواب په دې آیت سره ورکړ شو.

فَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَأُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي وَقَاتَلُوا وَقُتِلُوا لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ

او هغه کسان چې هجرت کړی دی دوی (لپاره د دین) او ایستلي شوي دي دوی له کورونو خپلو (د الله په لاره کې) او ضرر رسولی شوی دی دوی ته په لاره زما کې، او جنګونه یې کړي دي (له کفارو سره) او وژل شوي دي (په غزا کې)، نو خامخا به لرې کړم له دوی نه ګناهونه د دوی، او خامخا به داخل کړم دوی په جنتونو کې، چې بهیږي له لاندې د (ماڼیو او ونو د) هغو ویالې.

تفسیر: یعنې کله چې د کوم عمل کوونکي هیڅ یو وړوکی او لوي عمل نه ضایع کیږي، نو بیا د الله تعالی خاصو هغو بندګانو ته زیاته خوښي او اجر په برخه کیږي، چې د کفر او عصیان په پرېښودلو سربېره وطن او خپلوان یې هم پرېښي، او له (دار الکفر) ځنې وتلي، او له خپلو اقاربو او دوستانو ځنې جلا (جدا) شوي، له اهل او عیال، مال او منال ځنې یې سترګې پټې کړې، او د (دار الاسلام) په لوري روان شوي دي، ځکه چې کفارو پر دوی دومره ظلم، تېری او تجاوز وکړ، چې پخپلو کورونو کې د دوی پاتې کېدل مشکل شول، د وطن له پرېښودلو او د کور او کورنیو له جدا والي سره، بیا هم د دښمنانو له ضرره په آرام نشول، او راز راز تکلیفونه یې د کفارو له لاسونو څخه ګالل، او دا ګرد ددې له امله وو، چې هغوئ د الله تعالی نوم یاداوه، او د توحید کلمه یې ویله، لکه چې د «الممتحنة» سورت په (۱) آیت (۱) رکوع کې راغلي دي: ﴿يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ أَن تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ رَبِّكُمْ﴾ او د البروج سورت په (۸) آیت کې لولو: ﴿وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَن يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ﴾، په پای کې دا بندګان چې زما په لاره کې وجنګېدل، د دې بندګانو ګرد تقصیرات معاف کړی شوي دي، او جنت د دوی په انتظار کې دی.

ثَوَابًا مِّنْ عِندِ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عِندَهُ حُسْنُ الثَّوَابِ

(جزا د نېکیو به ورکړو مونږ دوی ته) په جزا ورکولو (نېکو) سره له نزده د الله، او الله په نزد د ده دی ښه ثواب (نېکه جزا).

تفسیر: یعنې ښه بدل خو الله تعالی سره دی، او بل په هیڅ ځآی کې نه پیدا کیږي، یا یې دا مطلب دی: چې له دې بدل ځنې ښه بدل له الله تعالی سره دی، چې هغه د الله تعالی د لوی ذات لیدل او رضاء ده (ای الله ! خپله لقاء دې ځمونږ او د ګردو (ټولو) مؤمنانو په برخه کړه !)، آمین.

لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي الْبِلَادِ مَتَاعٌ قَلِيلٌ ثُمَّ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ الْمِهَادُ

نه دې تېرباسي له سره تا (ای سامعه !) تلل راتلل د هغو کسانو چې کافران شوي دي (او تصرف د دوی) په ښارونو کې، (دا) فائده ده لږه، پس (له مرګه) ځای د دوی دوزخ دی، او بد ځای د هستوګنې دی (دا دوزخ).

تفسیر: یعنې کفار چې دې خوا او هغې خوا د تجارت او نورو کارونو لپاره په ډېر تکبر او غرور سره په ګټې او فائدې پسې ګرځي، مسلمانانو ته نه ښایي چې پر دوی باندې تېروځي، ځکه چې دا د هغوی د څو ورځو بهار دی، که سړي

ته د څو ورځو لپاره ښه ډوډۍ او مکلف خواړه ورکړل شي، او بيا يې په دار وځړي، يا يې په دائمي حبس محکوم کړي، نو آيا دې ته عيش ويلی شي؟ عيش هغه دی چې سړی د څو ورځو له مخې لږ ډېر زحمت او تکليف په ځان وګالي، او د خپل دائمي راحت او خوشالۍ اسباب په اعلی درجه سره مهيأ کړي.

لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا

ليکن هغه کسان چې ويريږي دوی له ربه خپله، شته دوی لره جنتونه چې بهيږي له لاندې د (ونو او مانيو د) هغو ويالې، تل به وي دوی په هغو (جنتونو) کې.

نُزُلًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ

په دې حال کې چې (دغه جنتونه ځای د) ميلمستيا (يو پيشکشې) ده له جانبه د الله.

تفسير: له دې کبله يې ورته په ميلمستيا سره تعبير وکړ چې له ميلمه سره د خوړلو چښلو فکر نه وي، او په عزت او آرامۍ سره ناست وي، او په خوشالۍ کې هر شی ورته تيار وررسيږي. (والله أعلم).

وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ ﴿۱۹۸﴾ وَاِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ خٰشِعِيْنَ لِلّٰهِ ۙ لَا يَشْتَرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ

او هغه (باقي شی) چې په نزد د الله دی؛ خير (ډېر غوره) دی لپاره د نېکانو. او بېشکه ځينې له اهل کتابو څخه خامخا هغه څوک دي چې ايمان لري پر الله او پر هغه (قرآن) چې نازل کړی شوی دی تاسې ته (ای مسلمانانو) او پر هغه تورات او انجيل چې نازل کړی شوی دی دوی ته، حال دا چې ويريدونکي (متواضع) دي الله لره، نه اخلي دوی په آيتونو د الله قيمت لږ، هم دغه کسان (مقرر) دی دوی لره اجر (ثواب) د دوی په نزد د رب د دوی.

تفسير: پورته د عامو متقيانو د حال بيان وشو، اوس په کتابيانو کې چې کوم متقيان دي د هغو ذکر په خصوصيت سره فرمايي، يعنې هغو کتابيانو چې پر الله تعالی باندې يې په ښه ډول سره ايمان راوړی او قرآن عظيم الشأن يې منلی دی، او څرنګه دا عظيم الشأن قرآن بالذات د تورات او انجيل تصديق کوونکی دی، نو دوی ګواکې هغه هم ومنل، مګر نه په دې ډول چې دنيا خوښوونکي (احبار) يې مني، چې د لږ دنيوي ګټې لپاره د الله تعالی آيتونه پټوي يا يې بدلوي، بلکه د الله تعالی په مخکې په ډېره عاجزۍ او اخلاص سره غاړه ږدي، او هم هغه ډول چې د الله تعالی له درباره کتاب را نازل شوي دي، هغه يې په هم هغه اصلي رنګ سره ومنل.

اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۹۹﴾

بېشکه چې الله ډېر ژر دی حساب (د ده يعنې ډېر ژر حساب آخلي).

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا ۟ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۲۰۰﴾

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو !) صبر کوئ (په طاعت، مصيبت، او له معصيته) او ټينګ اوسئ ! په صبر (د کفارو په مقابل کې) او محکم اوسئ (په اسلامي سرحداتو کې) ! او وويرږئ له الله ! لپاره د دې چې په مراد ورسېږئ ! (بريالي شئ ! اود دوزخه نجات وموميئ !).

تفسير: الله تعالى د دغه سورت په پای کې مونږ مسلمانانو ته یو جامع او مانع نصیحت وکړ، چې په واقع کې د دې ګرد سورت حاصل دی، یعنې ای مؤمنانو ! که فتح او بری، او د دنیا او آخرت په مراد رسېدل غواړئ ! نو سره د سختۍ تېرولو په طاعت کې ټینګ اوسئ ! او له معصیت ځنې ځان وساتئ ! او دښمنانو په مقابله کې خپله مضبوطي، ثابت قدمي، او مېړانه (بهادري) څرګنده کړئ ! او د اسلام د حدودو په حفاظت کې تل مشغول او لګیا اوسئ ! له هر ځایه چې د دښمن د تعرض (یرغل) اندېښنه وي، هملته د اوسپنې د دیوال په شان خپل ټرونه سپر کړئ ! او پښې مو ټینګې کړئ !.

﴿وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ﴾ (١٠ جزء د الأنفال سورت ٦٠ آیت، ٨ رکوع) او په هر وخت او هر کار کې له الله جلت کلمتُه څخه وویرېږئ ! که تاسې داسې وکړل، نو وپوهېږئ چې په خپل مراد ورسېدئ.

تمت سورة «آل عمران» بفضل الله المنان نسأله الرحمة والغفران وخلود الجنة والرضوان ونصلی ونسلم الف الف مرة علىٰ رسوله وحبيبه سيد الإنس والجان.



سُورَةُ النِّسَاءِ

د«النساء« سورت مدني دی، (۱۷۶) آیتونه او (۲۴) رکوع لري، په تلاوت کې څلورم، او په نزول کې ۹۲ یم سورت دی.

وروسته د «الممتحنة» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً

ای خلقو (تل) وویرېږئ له ربه خپله ! هغه (رب) چې پیدا یې کړئ تاسې له نفسه یوه نه (چې آدم علیه السلام دی) او پیدا یې کړه له دې (نفسه) جوړه د ده (چې حواء ده) او خپاره (خواره) یې کړل له دې دواړو څخه سړي ډېر، او ښځې (ډېرې).

تفسیر: لومړی یې د آدم علیه السلام له کینې پُښتی ځنې بې بې حواء پیدا کړه، بیا یې له دوی دواړو ځنې ګرد نارینه او ښځې پیدا او په ځمکه کې یې خپاره (خواره) کړل، نو په حقیقت کې الله تعالی ټول انسانان له یوه نفس او یوه سړي ځنې پیدا کړي دي، مطلب یې دا دی: کله چې له عدم ځنې ستاسې د ګردو پیدا کوونکی او بیا ستاسې باقي او قائم ساتونکی هم هغه یو ذات دی؛ نو ښایي چې تاسې له هغه څخه وویرېږئ ! او د هغه د امر منل یو ډېر ضروري کار وګڼئ ! له دې ځنې دوه مضمونونو ته اشاره وشوه:

(اول): دا چې الله تبارک وتعالی ستاسې د ټولو خالق او موجد دی.

(دویم): دا چې د ګردو انسانانو د وجود سبب هم هغه یو نفس دی، چې له هغه ځنې الله تعالی نور ګرد انسانان پیدا کړل، یعنې أبو البشر آدم علیه السلام.

وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ

او وویرېږئ له الله ! هغه (الله) چې سوال کوئ تاسې یو تر بله په (نامه د) ده سره، او (وویرېږئ له پرېکولو) د خپلوۍ څخه.

تفسیر: سربېره پر دې چې الله جل جلاله ستاسې خالق او رب یعنې موجد او بقاء درکوونکی دی، د ده د اطاعت د وجوب یوه وجه دا ده، چې تاسې د ده په وسیله ګرځولو په خپلو منځونو کې خپل حقوق او فوائد غواړئ ! او یو بل ته د هغه په نامه قسمونه ورکوئ !، وروسته له دې دا حکم دی چې له قرابته وویرېږئ ! یعنې د اقاربو حقوق په ښه ډول سره اداء کوئ ! او د خپلوۍ له پرېکولو او بد سلوکۍ ځنې ځانونه وژغورئ ! (وساتئ).

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا

بېشکه الله دی پر تاسې ساتونکی (نو هیڅېرې او هیڅکله تر غافل نه شئ چې جزا درکوي).

تفسير: يعني الله جل جلاله ستاسې له ګردو (ټولو) اعمالو، افعالو، او احوالو څخه واقف دی، که د هغه د حکم متابعت وکړئ؛ نو ثواب به ومومئ، که نه د عذاب مستحق کیږئ، او ستاسې د ارحامو او خپلوی په تعلقاتو او مراتبو، او د هر یوه په مناسبو حقوقو باندې هم ښه پوهیږي، نو ځکه د هغه په نسبت هر هغه حکم چې الله جل جلاله درکړی، هغه حق وګڼئ ! او عمل پرې وکړئ !.

وَاٰتُوا الْيَتٰمٰٓى اَمْوَالَهُمْ وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيْثَ بِالطَّيِّبِ ۪ وَلَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَهُمْ اِلٰٓى اَمْوَالِكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حُوْبًا كَبِيْرًا ۝۲

او ورکړئ (ای د یتیمانو اولیاوو !) یتیمانو ته مالونه د دوی (پس له رشده)، او مه اخلئ تاسې خبیث (بد، حرام مال) په طیب (ښه، حلال مال !)، او مه خورئ تاسې مالونه د دوی (یعنې د یتیمانو، ګډ) له مالونو خپلو سره، (ای ولیانو ! او وصیانو !) بېشکه دا (د یتیمانو د مال خوړل) ګناه لویه ده.

تفسير: دیتیمانو او لیاوو او سرپرستانو ته حکم دی، هر کله چې هغوی بالغ شي، نو د هغوی مال دې پرې وسپاري !، او د سرپرستۍ په وخت کې دې د یتیمانو یو ښه شی نه اخلي !، او نه دې په معاوضه کې خراب او ښکته شی د هغه په مال کې شامل کړي ! او نه دی دهغوی مال له خپل مال سره ګډ کړي !، چې ویې خوري، مثلا «ولي» لره اجازه شته چې د یتیم خواړه له خپلو خوړو سره مشترک او شامل کړي، مګر دا خبره ضروري ده چې د یتیم مال ته دې څه نقصان ونه رسوي !، او داسې دې ونه شي، چې د شرکت په پلمه (بهانه) د یتیم مال وخوري، او ورڅخه استفاده وکړي، ځکه چې د یتیم د مال خوړل لویه ګناه ده.

ښایي له دې امله به د یتیم حکم په هغو احکامو کې چې په ارحامو پورې تعلق لري مخکې ذکر شوی وي، چې یتیم د خپلې بېکسی، بې سرو سامانی، مجبوری، بېچاره ګی له کبله د زیادت رعایت، شفقت او حفاظت محتاج وی لکه چې له همدی جهته په تبدیل او شرکت سره د یتیم د مال خوړل ممنوع ګرځول شوي، او په راتلونکو متعددو آیتونو کې هم د یتیمانو په نسبت څو احکام ارشاد شوي دي، چې له هغو ځنې په یتیمانو باندی لا زیات اهتمام را څرګندیږی او دا اهتمام د ګردو (ټولو) یتیمانو په حق کې دي.

هو ! هغه یتیم چې قریب او خپلوان وي، د ده په باره کې زیات تأکید شوی دی، او همدا شان نزول او د دې آیتونو د ربط سبب هم دی، چې له عرف او عادت سره هم موافق دی، ځکه چې د یتیمانو (اولیاء) غالبا هغه کسان وي چې د هغوی سره زیاته خپلوي لري.

وَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا فِى الْيَتٰمٰى فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ۚ

او که وویرېږئ تاسې چې به ونه کړئ شئ عدل او انصاف په (حق د) یتیمانو کې نو په نکاح سره واخلئ تاسې (نورې) هغه ښځې چې خوښې (او حلالې) وي تاسو ته له ښځو؛ دوه دوه، او درې درې، او څلور څلور.

تفسير: په صحیحو احادیثو کې راغلي دي، هغه یتیمې جینکی چې د خپلو اولیاوو تر تربیت لاندې به وي، او د هغې یتیمې او دهغې د ولي په مال او ځمکه او باغ کې به د خپلوی له لامله (له وجې) شرکت وو، نو دلته به دوه صورت وړاندې کېده:

(۱) کله به داسې پېښېده چې «ولي» ته به د دې جمال او مال دواړه مرغوب وو، او د دې ولي به د لږ څه مهر په بدل کې له دې سره خپله نکاح ترڅه، ځکه چې دې جینۍ به بل څوک نه درلود (لرلو)، چې د دې د حق غوښتنه یې کړي وای:

(۲): کله به داسې کېده چې د دې یتیمې جنۍ جمال به مرغوب نه وو، مګر «ولي» د دې خیال له امله: که زه د دې نکاح له بل چا سره وترم، نو د دې جینۍ مال به زما له لاسه ووځي، او زما په مال کې به بل څوک راسره شریک شي، نو د دې مصلحت له مخې به یې په یوه ډول له دې سره خپله نکاح ترڅه، خو له دې منکوحې سره به یې په زړه کې څه مینه او رغبت نه درلود (لرلو)، نو دا آیت نازل او اولیاوو ته ارشاد وشو: «که تاسې له دې خبرې ځنې ویرېږئ چې د یتیمو نجونو په نسبت انصاف نشئ کولئ، او د دوی په مهر او حسن معاشرت کې له تاسې ځنې تقصیر پېښیږي، نو تاسې له هغوی سره نکاح مه ترئ ! بلکه نورو مرغوبه وو ښځو ځنې له یوې څخه نیولې تر څلورو پورې تاسې ته اجازه شته، چې د شریعت له قاعدې سره یې سم نکاح کړئ ! چې له دې جهته یتیمو جونو ته څه نقصان ونه رسیږي، ځکه تاسې چې د هغوی د حقوقو حامي یئ؛ نو نه ښایي چې د حمایت لامله په کومې خرابۍ او ګناه کې ولوېږئ !».

تنبیه: د آزاد مسلمان لپاره له څلورو ښځو او د مریې لپاره له دوو ښځو ځنې زیاتې په نکاح اخیستل جائز نه دي، او په احادیثو کې هم د دې په نسبت تصریحات موجود او دیني أئمه وو هم پر دې باندې اجماع کړېده، او ګرد (ټول) امت ته هم دا حکم راغلی دی، یواځې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خصوصیت او امتیاز وو، چې له دې ځنې د زیاتو اجازه هم دوی ته وه.

فائده: د یتیمو جونو د نکاح درېم صورت هم په حدیث کې راغلی دی: هغه یتیمه جینۍ چې د دې د مال او جمال د دواړو په نسبت د دې «ولي» بې رغبته وي، او د دغه عدم رغبت لامله د دې ولي د هغې نکاح له بل چا سره ترې، مګر ښکاره خبره ده، چې د دې آیت تعلق له دې صورت سره نشته.

په ﴿وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ﴾ کې «و» په معنی د «او» دی.

د دې آیت حاصل ځینو مفسرینو داسې هم بیان کړی دی چې: «که د یتیم له مال څخه وېره کوئ ! نو له ما څخه هم سخت وویرېږئ ! او له ښځو سره معامله په نکاح سره وکوئ ! نه په سفاح سره ! او له ډېرو ښځو هم وېره وکړئ ! او له څلورو ښځو ځنې زیاتې مه کوئ !».

فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ۚ

نو (بیا که) وویرېږئ تاسې چې عدل (انصاف برابري) به ونه کړئ شئ (د ښځو په منځ کې په نفقه، نوبت، او نورو کې)؛ نو یوه (اصیله کوئ) یا هغه وینځې چې مالکان شوي دي د هغو (وینځو) ښې لاسونه ستاسې (تاسې یې ملکان یئ).

تفسیر: یعنې که تاسې له دې خبرې ځنې ویرېږئ، چې په څو ښځو کې به سم له انصافه او مساواته معامله ونشئ کړئ؛ نو بیا فقط په یوې نکاح قناعت وکړئ ! یا یواځې پر وینځو باندې یوه وي، که ډېرې اکتفا وکړئ ! او که مو زړه غواړي له یوې منکوحې سره څو وینځې هم وساتئ !.

ذٰلِكَ أَدْنَىٰ أَلَّا تَعُولُوا ۚ

دا (نکاح د یوې اصیلې یا د ډېرو وینځو) ښه نږدې ده دې ته چې ظلم ونه کړئ تاسې (او یو جانب ته متمائل نشئ تاسې).

تفسير: يعني يوائې له يوې ښځې سره له نکاح کولو څخه يا فقط په خپلې يوې وينځې يا ډېرو وينځو باندې په قناعت کولو کې يا له يوې نکاحي ښځې سره د يوې وينځې يا د څو وينځو په جمع کولو کې د دې خبرې امید او توقع شته، چې تاسې له بې انصافۍ او بې عدالتۍ څخه محفوظ پاتې شئ !، ځکه هغه حقوق چې زوجات يې لري، هغسې يې مملوکې وينځې نه لري، د هغوی په منځ کې د عدالت په نه کولو سره تاسې نه مؤاخذه کېږئ، نه هغوی لره مهر شته، او نه يې د معاشرت لپاره کوم حد مقرر دی.

فائده: هر هغه څوک چې څو ښځې لري، نو په ده باندې واجب دي، چې د دوی په خوراک، پوښاک، راکړه ورکړه او نورو کې مساوات وکړي، او د شپې له مخه د ويد بدلو لپاره هم سم له نوبته له هرې يوې ښځې سره ببل ببل هستوګنه، او جلا جلا (جدا جدا) شپه تېره کړي، که کوم مېړه (خاوند) د خپلو ښځو په حقوقو کې عدالت او برابري نه کوي، نو هغه به د قيامت په ورځ کې مفلوج (ګوزن وهلی) پاڅېږي، او داسې به درومي چې له خپله ځانه سره به يو لاس او يوه پښه او نور نيمايي بدن کش کاږي، او که د چا په نکاح کې يوه اصيله ښځه او يوه وينځه وي، نو وينځې ته د اصيلې ښځې نيمايي نوبت او وار دی، او هغه وينځه هيڅ د نوبت حق نه لري، چې د خپل مالک په ملک کې وي بلکه له دوی سره ناسته او ملاسته د دې د بادار په خوښې پورې مربوطه ده.

وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَةً ؕ

او ورکوئ تاسې ښځو (خپلو) لره مهرونه د دوی په ورکړه د خوشالۍ سره (چې فرض شوي دي له طرفه د الله پر تاسې).

تفسير: يعني د هغو ښځو مهرونه چې تاسې نکاح ورسره ترلې ده، په خوښۍ او رغبت سره پخپله اداء کړئ، بې له دې چې د هغوی کوم حامي يا بل څوک له تاسې څخې د حصول څه تقاضاء وکړي، که تاسې پخپل شوق او رغبت سره د خپلو ښځو مهرونه ورکوئ ! نو بيا د يتيمو نجونو په نکاح کولو کې هيڅ کوم حرج او ممانعت نشته، بلکه حرج او ممانعت خو به هلته وي، چې د دوی د مهر يا د بل کوم حق په اداء کولو کې څه دروندوالی وليدل شي.

فَاِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَیْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوْهُ هَنِیْٓـًٔا مَّرِیْٓـًٔا ۝۴

نو که راضي شوې دا (ښځې) تاسې ته (په بخښنه) له کوم شي له دې (مهره په خوشالۍ) د نفس خپل؛ نو خورئ تاسې دغه شی په داسې حال کې چې خوندوره حلاله بې ضرره وي.

تفسير: يعني که ښځه پخپله خوښه له مهر څخې څه شی خپل مېړه (خاوند) ته معافوي، يا يې اخلي، او بيا يې ور هبه کوي، نو په دې کې هيڅ حرج نشته، او مېړه (خاوند) دې هغه په خوښۍ سره وخوري، «هنيء» هر هغو خوړو ته وايي چې خوندور او لذيذ وي، او طبيعت يې په خوښۍ او رغبت سره قبول کړي، «مريء» هر هغو خوړو ته وايي چې په زړه پورې هضم او په ډول سره د بدن جزء او د صحت او قوت موجب شي.

وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ اَمْوَالَكُمُ الَّتِیْ جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ قِیٰمًا وَّارْزُقُوْهُمْ فِیْهَا وَاكْسُوْهُمْ وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۝۵

او مه ورکوئ (مه سپارئ) تاسې ! بې عقلانو ته مالونه خپل هغه چې ګرځولي دي الله لپاره ستاسې سبب د ګزران، او روزي ورکوئ دوی ته په دې مالونو کې، او جامې ورکوئ دوی ته، او ووايئ دوی ته خبره معروفه (نېکه، خوږه، پسته، معقوله).

تفسير: يعنې د ناپوهو هلکانو (ليونيانو، وړو اولادونو او ښځو) په لاس کې د دوی هغه مالونه مه ورکوئ ! چې ستاسې په تصرف کې وي، او الله تعالى هغه انسانانو لره د معيشت سامان جوړ کړی دی، بلکه هغه په پوره حفاظت سره وساتئ ! او د هلاکت له اندېښنې څخه يې وژغورئ (وساتئ) !، او تر څو پورې چې دوی پخپله نفع او نقصان باندې ونه پوهيږي؛ تر هغه وخته پورې ورته له همغه ځنې خوراک او کالي (جامې) ورکوئ ! او تسلي ورکړئ چې دا ګرد مال ستاسې دی، مونږ ستاسې فائده غواړو، کله چې تاسې پوه شوئ؛ دا ګرد مال تاسې ته درکاوه کيږي.

(يا دا معنى چې مه سپارئ کم عقلو، ليونيانو، يتيمانو، او ښځو خپلو ته، مالونه خپل د دوی د بلوغ تر وخته پورې، او خوراک او پوښاک دوی ته ورکوئ ! او د لاسه کوئ يې ! او نه ښايي چې مالونه بې ځايه ولګول شي، ځکه چې مالونه د بدن د قوام او د ټولو کارونو د سرته رسولو سبب دی، يعنې د مالونو په وسيله په دنيا کې مأکول، مشروب، ملبوس، مسکن او نور، او په دين کې زکات، خيرات، حج، عمره، نفقه، صدقه او نور منځ ته راځي).

وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى حَتّٰٓى اِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ ۚ فَاِنْ اٰنَسْتُمْ مِّنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوْٓا اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ ۚ

او وازمويئ تاسې يتيمان تر هغه پورې کله چې ورسيږي دوی (حد، د) نکاح ته، نو که مونده تاسې له هغو نه هوښياري (په معاملاتو او د مال په ساتنه کې) نو وسپارئ تاسې هغوی ته مالونه د هغوی !.

تفسير: يعنې يتيمانو ته ښوونه او د دوی روزنه او ازموينه د بلوغ تر وخته پورې کوئ !، که وروسته له بلوغه په دوی کې د ګټې او د تاوان پوهه او د مال د انتظام او د حفاظت تميز ومومئ ! نو د دوی مال وروسپارئ ! د يتيمانو د ورښوونې او ازموينې عمده صورت همدا دی، چې د معمولي او د کم قيمت شيانو بيع او شراء په دوی باندې وکړل شي !، او د هغو طريقه دې دوی ته وروښوول شي !.

وَلَا تَاْكُلُوْهَآ اِسْرَافًا وَّبِدَارًا اَنْ يَّكْبَرُوْا ۭ

او مه خورئ تاسې دا (د يتيمانو ناپوهانو مالونه) په اسراف سره (چې له ضرورته زيات وي) او په جلتي سره (پخوا له حاجته، د ويرې د دې) چې دوی به لوي شي (نو وابه يې خلي).

تفسير: يعنې د يتيمانو مال له ضرورته زيات صرفول منع دي، لکه چې د يوې پيسې په ځای دوه پيسې صرف کړي، او دا هم منع ده، چې له دې خبرې ځنې وويريږي ! که دا يتيم لوی شي، نو خپل مال به له ما ځنې بهرته واخلي، نو په صرفولو کې يې تلوار په کار دی، خلاصه يې داسې شوه، چې بايد د يتيم مال د ضرورت په اندازه او د وخت له غوښتنې سره سم صرف شي.

وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۚ وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَاْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ ۭ

او هر څوک چې وي مالداره نو ښايي ځان پاک وساتي (د يتيمانو له مالونو څخه) او هر څوک چې وي فقير، نو خوري دې له دې مال څخه په معروف (له دستور سره سم د مزدورۍ په اندازه) سره.

تفسير: يعنې «ولي» دی د يتيم مال د خپل ځان لپاره نه خرڅوي، او که د يتيم پالونکی او تربيه کوونکی محتاج وي، کولی شي چې د خپل خدمت په اندازه د يتيم له مال ځنې خپله مزدوري واخلي ! مګر غني ته له سره څه اخيستل روا نه دي.

فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوا عَلَيْهِمْ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ حَسِيبًا ﴿٦﴾

نو کله چې ورکړئ (وسپارئ) تاسې دغو (یتیمانو) ته مالونه د دوی، نو شاهدان ونیسئ تاسې پر دوی باندې، او کافي دی الله په دې حال کې چې ښه حساب کوونکی (او جزا ورکوونکی) دی.

تفسیر: کله چې د کوم وړوکي پلار مړ شي، نو ښایي چې د څو مسلمانانو په مخ کې د یتیم مال ولیکل شي ! او بیا یې امانتدار ته وسپاري ! کله چې دا یتیم بالغ او هوښیار شي، نو سم له هغه لیک سره دې د هغه مال بېرته ورکړي ! او څومره شی چې صرف شوی وي، د هغه حساب دې هم وروښیي، او هغه شی چې پر یتیم باندې سپاري، ښایي چې په هغه باندې هم شاهدان ونیسي، او ور ویې ښیي، څو د راتلونکي اختلاف او جګړې په وخت کې خبره په سهولت سره صافه، او شخړه ورکه شي.

لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ ۖ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿٧﴾

شته نارینه وو لره (هم، لوي وي که واړه) نصیب د دوی له هغه ماله چې پرېښی وي مور او پلار او خپلوانو، او شته ښځو لره (هم، لویې وي که وړې) نصیب (برخه) له هغه ماله چې پرېښی وي مور او پلار او خپلوانو هغه (مبلغ) چې لږ وي له دې ماله او که ډېر وي، نصیب (برخه) مقرر کړی شوی (له طرفه د الله نه).

تفسیر: د رسول اکرم صلی الله علیه وعلی آله وصحبه وسلم له زمانې څخه پخوا دا رسم وو، چې لویو او وړو جینکو او نابالغانو هلکانو ته به یې میراث نه ورکاوه، او یواځې هغو نارینه وو ته به یې میراث رسېده، او وارثان ګڼل کېدل؛ چې لویان او د دښمنانو د مقابلې او مقاتلې لیاقت به یې درلود، چې په دې سبب وړو یتیمانو ته له میراث ځنې هیڅ شی نه ورکول کېده، نو د دوی په نسبت دا آیت نازل شو، چې خلاصه یې داده: «دمور او پلار او نورو خپلوانو له متروکه مال ځنې نارینه وو یعنې ځامنو لره اعم له دې نه چې وړوکی وي یا ځلمی د دوی برخه رسېږي، او ښځو لره یعنې لوڼو ته اعم له دې چې وړوکې وي یا پېغلې د مور او پلار او نورو خپلوانو له ترکې ځنې د دوی برخه ورکولی کېږي، او دا برخې ټاکلې شوي دي، هغه متروکه مال لږ وي، که ډېر؛ د هغو ورکول ضروري دي، په دی سره د جاهلیت د بد رسم ابطال وشو، او د یتیمانو او د نورو د حقوقو حفاظت یې وفرمایه، او د دوی د حق تلفی مخه یې بیخي ونیوله.

فائده: په دې آیت کې د حق لرونکو حق او د هغه تقرر او تعیین بالاجمال راښوول شوی دی، په وروستنی رکوع کې د وارثانو د برخې تفصیل راښوول کېږي.

وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُو الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينُ فَارْزُقُوهُم مِّنْهُ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٨﴾

او کله چې حاضر شي ویش (تقسیم د میراث) ته خاوندان د خپلوی (چې وارثان نه وي) او یتیمان او مسکینان؛ نو روزي ورکوئ تاسې دوی لره له هغه (میراثه) او ووایئ تاسې دوی ته خبره معروفه (خوږه معقوله).

تفسیر: یعنې د میراث د تقسیم په وخت کې چې ټول خپلوان یو تر بله سره ټول شي، که له دې خپلوانو څخه ځینې داسې وي چې هغوی ته میراث نه ورسېږي، یا یتیم او محتاج وي، نو دوی ته څه خواړه ورکړئ ! او رخصت یې

کړئ ! یا له موقع سره مناسب کوم شی له ترکې ځنې ورته ورکړئ ! ځکه چې داسې سلوک مستحب دی، که د میراث په مال کې د خوراک وړ شی نه وي، یا یې موقع نه وي، لکه چې هغه د یتیمانو مال وي، او مړي وصیت هم نه وي کړی، نو له دې خپلوانو سره ښې مناسبې او معقولې خبرې وکړئ ! او رخصت یې کړئ ! یعنې په پسته ژبه سره له دوی ځنې معذرت وغواړئ ! او داسې ورته ووایئ چې: «دا مال د یتیمانو دی، او مړي وصیت هم نه دی کړی، نو ځکه مونږ مجبور یو، چې له تاسې ځنې معذرت وغواړو».

وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا خَافُوا عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا اللَّهَ وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ۝

او ودې ویریږي (د یتیمانو پر ضیاع) هغه وصیان که پریږدي دوی پس له (مړکه) خپل اولاد ضعیفان (نو) ویریږي به دوی په دغو (اولادونو چې وروسته له مونږ به دوی هم داسې شي) پس ودې ویریږي دوی له الله ځخه او ودې وایي دوی ته خبره سمه خوږه.

تفسیر: په اصل کې دا ارشاد د یتیم د «ولي» او «وصي» لپاره دی، نورو ته هم درجه په درجه ښایي چې د دې خبرې خیال وساتي، مطلب دا چې هر سړي سره دې دا اندښنه وي، «نه چې زما له مړکه وروسته زما له اولادې سره څه سخته معامله وکړه شي»، نو ددې لامله تاسو لره هم ښایي چې له یتیمانو سره همغسې معامله وکړئ، چې تاسې یې خپلو ځامنو ته پس له مړکه غواړئ، او له الله تعالی ځنې وویرږئ ! او له یتیمانو سره سمې ښې خوږې خبرې کوئ ! یعنې هسې معامله له دوی سره وکړئ، چې په هغې باندې د دوی زړه مات نشي، او نه دوی ته څه تاوان ورسیږي، بلکه تل تر تله د هغوی د اصلاح، ښېګڼې (ښه والي)، تعلیم، تربیې، تأدیب، او تهذیب خیال ولرئ، (او قریب الموت مریض ته نصیحت وکړئ ! چې په وصیت کې د ورثې د حقوقو له تضییع ځنې ځان وساتئ، او د شهادت کلمه او توبه په خوله کې ورکړئ ! او د ترکې او د قسمت حاضرینو سره ښه د انسانیت او مهرانې وضعیت وکړئ !.

إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا ۖ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا ۝

بېشکه هغه کسان چې خوري دوی مالونه د یتیمانو په ظلم سره (بې له شرعي اذنه) خبره دا ده چې خوري دوی (اچوی) په ځپډو خپلو کې سور اور، او ژربه ننه وځي دوی اور سخت ګرم ته.

تفسیر: هر هغه څوک چې د یتیم مال بلا استحقاقه خوري، هغه خپله ځپډه د جهنم له اوره ډکوي، یعنې د هسې خوراک انجام به داسې کیږي، او دا یې په آخره جمله کې راښکاره کړه.

يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ ۖ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ ۚ

حکم کوي تاسې ته الله په (حق د میراث د) اولاد ستاسې کې چې (تاسې مړه شئ)، شته نارینه لره (له میراثه) په مثل د برخو د دوو ښځو.

تفسیر: که د کوم میت په اولاده کې هلک او جینۍ دواړه وي، نو هغوی ته د میراث ورکولو دا قاعده ده، چې یوه هلک ته به د دوو جینکو حصه ورکوله کیږي، مثلا که یو هلک او دوه جینکۍ وي، نو نیمایي مال هلک ته او بله نیمه یې هغو دوو جونو ته ورکوله کیږي، او که یو ځوی او یو لور ترې پاتې وي، نو دوه ثلثه هلک ته او یو ثلث جینۍ ته ور رسیږي.

فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۖ وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ۚ

نو که وو دا (اولاد خالصې) ښځې پورته له دوو څخه (یا دوه) نو (شته) دوی لره دوه ثلثه (دوه درېمې برخې) د هغه مال چې پرېښی وي (مړي)، او که وه دا (مولوده لور) یوه؛ نو هغې لره نصف (یعنې نیمایي د ترکې دی).

تفسیر: یعنې او که د کوم مړي په اولاده کې یواځې ښځې یعنې لونې پاتې شي، او څوی نه وي ترې پاتې، نو که دا جونه له دوه څنې زیاتې، یا دوه وي، بیا هم هغو ته همدا دوه ثلثه (دوه درېمې) رسېږي، او که یواځې یو جینی ترې پاتې وي، نو دې ته د پلار نیمایي ترکه ور رسېږي.

تنبیه: د ﴿لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ﴾ په ذیل کې دا راخر ګنده شوه، چې یوې جینی ته له یوه هلک سره یو ثلث ور رسېږي، نو له دې څنې معلومه شوه چې یوې جینی ته به له بلې جینی سره په طریق الأولی یو ثلث ور رسېږي، ځکه چې د هلک حصه د جینی له حصې څنې زیاته ده، نو کله چې د هلک په سبب د دې برخه له یوه ثلث څخه کمه نشوه، نو د بلې جینی له سببه به څرنګه هغه برخه لږ کېدی شي؟ کله چې د دوو جونو حکم په پخواني آیت کې معلوم شوی وو، نو ځکه په دې کې له دوو څنې د زیاتو لونې حکم هم راښیي، چې چاته داسې کومه شبهه پیدا نشي، کله چې د دوو لونې حق د یوې جینی له حق څنې زیات وي، نو ښایي د درو او څلورو او د ډېرو برخې به له هغه زیات وي، حال دا چې خبره داسې نه ده، بلکه کله چې لونې له یوې څنې زیاتي وي، دوه وي، که لس، که زیاتې، هغو ګردو ته به همغه دوه ثلثه رسېږي.

فائده: د اولاد د وراثت دوه صورتونه په آیت کې ذکر شول:

(۱): دا چې هلک او جینی دواړه نوعه اولاد موجود وي.

(۲) دا چې لونې ولري، او دا دوه صورتونه لري، چې یوه لور وي، یا له یوې زیاتې وي، نو اوس یواځې یو صورت پاتې دی چې یواځې هلکان ولري، نو دهغه حکم دادی چې ګرد میراث به هغوی ته ورسېږي، اعم له دې چې یو وي که ډېر.

وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ ۚ

او شته مور او پلار د ده (مړي) ته لپاره د هر یوه له دې دواړو سدس (شپږمه برخه) له هغه مال چې پرېښی وي (مړي) که وي مړي لره ولد (ځوځات).

تفسیر: او س د مور او پلار د میراث درې صورتونه بیان فرمایي: د اول صورت خلاصه داده: «که د میت اولاده ځوی یا لور وي، نو د میت مور او پلار ته د ده له ترکې څنې هر یوه ته سدس، شپږمه برخه ور رسېږي».

فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ ۚ

نو که نه وي ده لره ولد (ځوځات) حال دا چې میراث اخلي له ده (مړي څخه یواځې) مور او پلار د ده؛ نو دي مور د ده لره ثلث (درېمه برخه د ترکې، او نوره ټوله د پلار ده).

تفسیر: د دوهم صورت خلاصه دا ده: «که میت هیڅ اولاد ونلري، او یواځې مور او پلار یې وارث وي، نو د هغه مور ته یو ثلث «درېمه» ور رسېږي، یعنې نور پاتې دوه ثلثه د هغه پلار ته ور رسېږي.

فَإِنْ كَانَ لَهُۥٓ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ ٱلسُّدُسُ

نو که وي مړي لره ورونه (يا خويندې) نو شته مور د ده لره سدس (د ترکې شپږمه برخه).

تفسير: درېم صورت دا دی: که د میت له یوه څخه پورته ورونه او خویندې وي، که سکنې وي، که د پلار له لوري یا د مور له لوري وي، او اولاد هیڅ ونه لري، نو په دې صورت کې د ده مور ته سدس (شپږمه) برخه ور رسیږي، یعنې باقي ګرد د هغه پلار ته پاتې کیږي، ورور او خور ته هیڅ نه ور رسیږي.

مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِى بِهَآ أَوْ دَيْنٍ

پس له (اداء کولو د) وصیت څخه چې وصیت وکړي میت په هغه سره، یا پس (له ادا کولو) د دَین څخه.

تفسير: یعنې هومره چې د وارثانو برخې ذکر شوي دي، دا ټولې د میت د وصیت، او د هغه د قرض له اداء کولو څخه وروسته وارثانو ته ورکولی کیږي، او د وارثانو حق فقط په هغومره مال کې کیږي، چې د وصیت او د قرض د مقدار له ایستلو څخه وروسته پاتې کیږي، او نصف (نیمایي) او ثلث (درېیمه برخه) او نور له همدې پاتې مال ځنې مراد دي، نه له ګرد مال څخه.

فائده: د میت مال دې اول د ده په ګور او کفن کې ولګاوه شي ! څه چې له هغه څخه پاتې شي، له هغه څخه دې د ده قرض ورکړ شي ! څه چې د ده له قرض څخه پاتې شي، له هغه ځنې تر یوه ثلثه پورې (درې یمې برخې) پورې دې د مړي په وصیت کې صرف کړ شي !، وروسته له ګور او کفن او قرض او پس له أداء د وصیت څخه (د مال په ثلث کې): په پاتې متروکه کې ګرد وارثان شریک دي، او هغه ترکه پر دوی باندې ویشله کیږي.

ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا ۚ فَرِيضَةً مِّنَ ٱللَّهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١١﴾

پلرونه ستاسې او ځامن ستاسې نه پوهیږئ تاسې چې کوم یو له دوی زیات نږدې دی تاسې ته له جهته د نفعې، (دا برخې فرض شوي دي) مقرره برخه له (جانبه) د الله، بېشکه چې الله دی ښه عالم (په ټولو احوالو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

تفسير: په دې آیت کې یې دوه ډوله (قسمه) میراث بیان کړ، د اولاد میراث او د مور او پلار، اوس فرمایي: څرنګه چې دا خبره تاسې ته معلومه نه ده، چې له کوم یوه ځنې به تاسې ته نفع؟ او څومره نفع در ورسیږي؟، نو ځکه په دې کې تاسو ته نه ښایي چې څه مداخله وکړئ، هره برخه او حصه چې الله تعالی هر چا ته مقرره کړېده، د هغه رعایت وکړئ ! ځکه چې الله تعالی پر هر شي باندې ښه خبردار او لوی حکمت والا دی.

وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَٰجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ ۚ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَآ أَوْ دَيْنٍ

او شته تاسې ته نیم د هغه مال چې پرېښی دی ښځو ستاسې که نه وي دې ښځو لره ولد (ځوځات)، نو که وي دې ښځو لره ولد (ځوځات) نو تاسې لره شته څلورمه برخه له هغه ماله چې پرېښی وي دې ښځو پس (له ادا کولو) د وصیت نه چې وصیت یې کړی وي (دې ښځو) په هغه سره یا (پس له اداء کولو د) دین څخه (چې وي په دې ښځو باندی څه قرض).

تفسير: اوس د زوجينو د ميراث بيان كاوه شي، چې مېړه (خاوند) لره د ده د ښځې له مال ځنې نيمايي ور رسيږي، كه دا ښځه اولاد ونه لري، او كه اولاد ولري، اعم له دې چې يو ځوى يا يوه لور يا ډېر ځامن او لونې، له دې مېړه (خاوند) ځنې، يا له بل مېړه (خاوند) ځنې ولري، نو مېړه (خاوند) ته د دې له مال ځنې ربع (څلورمه برخه) وروسته له وركولو د قرض او وصيت څخه ور رسيږي.

وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ ۚ فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم مِّن بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۗ

او شته دې ښځو لره څلورمه برخه له هغه مال چې پرېښى وي تاسې كه نه وي تاسې لره ولد (ځوځات)، نو كه وو تاسې لره ولد (ځوځات) نو دې ښځو لره ثمن (اتمه برخه) له هغه ماله چې پرېښى وي تاسې پس له ادا كولو د وصيت چې وصيت كوئ تاسې په هغه سره، يا پس له اداء كولو د دَين (قرض، چې وي پر تاسو ای خاوندانو).

تفسير: او هم داسې ښځې لره چې مېړه (خاوند) يې اولاد نه لري، د دې د مېړه (خاوند) له مال څخه ربع (څلورمه برخه) ور رسيږي. كه اولاد لري اعم له دې چې له همدې ښځې څخه وي كه له بلې ښځې څخه؛ نو ښځې ته ثمن (اتمه برخه) د دې د مېړه (خاوند) له هغه مال څخه ور رسيږي، چې د وصيت او قرض له ادا كولو څخه وروسته پاتې وي، له هر قسم مال څخه نغد وي كه جنس، وسله وي كه ګانې (زېور)، سراى وي كه باغ، پاتې شو د ښځې مهر، هغه له ميراث ځنې جلا او په قرض كې داخل دى، دا ټول دوه صورتونه لري، لكه چې د نارينه د ميراث صورتونه هم دا دوه وو.

وَإِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ ۚ

او كه وو يو سړى چې ميراث ترې وړل كيږي كلاله (بې ولده بې والده) يا ښځه وه (هم داسې كلاله) حال دا چې وي دي مړي لره (يو اخيافي) ورور يا (اخيافي) خور پس شته هر يوه لره له دې (اخيافي) ورور او خوره سدس (شپږمه برخه د تركې).

تفسير: له دې ځايه د «اخيافي» ورور او خور ذكر دى، چې يواځې په مور كې سره شريكان وي، نو ښايي وپوهيږئ ! چې د پلار او ځوى د پاتې كېدلو سره ورور او خور ته هيڅ نه ور رسيږي، هو ! كه والد او ولد نه وي، نو ورور او خور ته به ميراث ورسيږي، ورور او خور په درې ډوله دي:

(۱): سكني چې په مور او پلار كې سره شريكان وي، چې دوى ته «عيني يا أعياني» وايي.

(۲) «علاّتي» چې يواځې په پلار كې سره شريكان وي.

(۳) «أخيافي» چې يواځې په مور كې سره شريكان وي.

په دې آيت كې د «أخيافي» ذكر دى، كله چې د متعددو اصحابو كرامو په قرائتونو كې د ﴿وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ﴾ څخه وروسته د «من الأم» كلمه په تصريح سره شته، او په دې باندې د ګردو اصحابو اجماع ده، چې په دې ځاى كې له (أخ) څخه أخيافي ورور مراد دى.

د دې آيت مطلب دا دى چې هر هغه ميت نارينه وي كه ښځه چې مور او پلار او لور او ځوى هيڅ نه لري، او يواځې يو «أخيافي» ورور يا خور ولري، نو له دې دواړو څخه هر يوه ته سدس (شپږمه برخه) ور رسيږي، او د نارينه او ښځې يعنې د «أخيافي» ورور او خور برخه برابره ده، او هيڅ زيادت او كمى په كې نشته، پاتې شو دوه ډوله ورور

او خور: يعنې «عيني» او «علاتي» نو د دې دواړو حکم لکه د اولاد داسې دی، په دې شرط چې د مړي پلار او ځوی هيڅ نه وي، مقدم «عيني» دی، که هغه نه وي نو «علاتي» دی، د «النساء» د سورت په آخر کې د دې دواړو د ميراث ذکر هم راځي.

فَإِنْ كَانُوٓا۟ أَكْثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَآءُ فِى ٱلثُّلُثِ مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَىٰ بِهَآ أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَآرٍّ

نو که وو (ورونه خويندې د کلالې) زيات له دغه (يو ورور او خور څخه) نو دوی ګرد سره شريکان دي په ثلث (درېمه برخه د ترکې) کې وروسته له (اداء کولو د) وصيت چې وصيت کولی شي په هغه سره، يا پس (له اداء کولو) د دَين، په دې حال کې چې (نورو ته) نقصان ونه رسوئ (په دې وصيت کې).

تفسير: يعنې که د «أخيافي» ورور او خور له يوه ځنې زيات وي، نو دوی ګردو (ټولو) ته همغه يو ثلث (درېمه برخه) په ميراث ور رسيږي، او په لومړني صورت کې هغه «سدس» (شپږمه) او په وروستني صورت هغه «ثلث» چې ورکاوه کيږي، له وصيت او قرض ځنې وروسته څه مال چې باقي پاتې کيږي؛ له همغه ځنې دا «ثلث» يا «سدس» ورکاوه کيږي، او وصيت هلته صحيح او پر ميراث باندې مقدم کېدی شي، چې په هغه کې د نورو څه زيان نه وي، او دا زيان دوه صورتونه لري:

(۱): دا چې له يوه «ثلث» ځنې يې د زيات مال وصيت کړی وي.

(۲): دا چې د هغه وارث لپاره چې هغه ته له ميراث ځنې هم برخه ور رسيږي؛ څه وصيت وکړي، په دې دواړو صورتونو کې وصيت صحيح نه دی، هو ! که ګرد ورثه هغه وصيت سره مني، نو ښه ! که نه هسې وصيتونه ګرد مردود دي.

فائده: ځرنګه چې له وارثانو ځنې اندېښنه وه، چې د ميت له ترکې ځنې به د ميت وصيت او قرض اداء نه کړي، بلکه ټول مال به د خپلو ځانونو لپاره وساتي، نو ځکه يې له ميراث سره هر ځلې د وصيت او د دين د حکم تأکيد بيان کړ، او کله چې وصيت تبرع او احسان دی، او ډېر ځله يو معين سړی د دې مستحق نه وي، او له دې سببه د هغه د ضايع کېدلو احتمال قوي وو، نو ځکه يې د اهتمام او احتياط لامله په هر ځای کې له دين (پور) ځنې د وصيت ذکر د مخه فرمايلی دی، حال دا چې د وصيت درجه له دين څخه وروسته ده، لکه چې پخوا تېره شوه، (يعنې لکه چې هيڅوک د دين په اداء کې غفلت نه کوي، همداسې دې په وصيت کې هم نه کوي !) او هم وصيت د مورث حق دی لکه تجهيز او تکفين، پرته له وراثت او قرض څخه چې هغه د نورو حق دی، نو له دې حيثيته به وصيت له قرض ځنې مقدم وي، اګر که له بلې وجې قرض په وصيت باندې وړاندې دی، او دلته د ﴿غَيْرَ مُضَآرٍّ﴾ قيد زيات شوی دی، همدا قيد به په نورو سابقه ځايونو کې هم معتبر وي.

وَصِيَّةً مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ ﴿١٢﴾

وصيت کوي الله تاسې ته وصيت له (جانبه) د الله، او الله ښه عالم دی (په ټولو احوالو) ډېر تحمل والا (په تأخير د عقوبت لپاره د انابت).

تفسير: هغه ميراثونه چې د دې رکوع له شروع څخه تر دې ځايه پورې بيان شوي دي، پنځه دي:

(۱) ځوی ، لور (۲) مور ، پلار (۳) مېړه (خاوند) (۴) ښځه (۵) أخيافي ورور، خور.

همدې پنځو واړو ته ذوي الفروض يعنې د معلومو برخو خاوندان وايي (په استثناء د ځوی چې عصبه دی) د دې پنځو واړو د میراث أحکام يې بيان کړل، په پای کې يې د تاکيد په ډول وفرمايل: «دا حکم د پاک الله دی، او تعميل يې ضروري دی، او الله جل جلاله ته هر شی معلوم دی، چې کوم يو اطاعت کوي، او کوم يو غاړه غړه وي؟ او کوم يو په ميراث، وصيت، او قرض کې له حق او انصاف سره سم کار کوي، او کوم يو بې انصافي کوي، او ضرر رسوي؟ او په دې خبره دې هيڅوک ونه غوليږي، چې د ظلم او بې انصافی په سزا کې ولې تأخير کيږي؟ ځکه چې د الله تعالی حلم ډېر کامل دی.

فائده: ښايي وپوهيږو چې پرته له «ذوي الفروضو» څخه چې د هغو ذکر په همدې رکوع کې تېر شو، يو بل قسم وارث هم دی، چې هغه ته «عصبه» وايي، او هغو لره کومه معينه برخه لکه نصف (نيمايي) او ثلث (دريمه) او ثلثان (دوه برخې له دريو برخو) او ربع (څلورمه برخه) او سدس (شپږمه برخه) او نور نه ده مقرره، بلکه هر هغه شی چې له «ذوي الفروضو» څخې کوم يو نه وي، نو د هغه ټول مال (عصبه) ته ور رسيږي، او که «ذوي الفروض» او «عصبه» دواړه وي، نو اول «ذوي الفروضو» ته او که ترې پاتې نشو «عصبې» ته هيڅ نه ور رسيږي، او اصلي «عصبه» هغه دی چې نارينه وي، ښځه نه وي، او د ده او د مړي په مينځ کې د ښځې واسطه هم نه وي، او د دوی درجې څلور دي:

(۱) ځوی او لمسی.

(۲) پلار او نيکه.

(۳) ورور او وراره.

(۴) تره او د تره ځوی يا د ده لمسی.

که څو تنه «عصبه» موجود وي، نو ميراث همغو عصبه وو ته رسيږي؛ چې مړي ته نږدې وي، لکه د لمسي په مقابل کې ځوی، او د وراره په مقابل کې ورور وړاندی دی، نو بيا د «أخيافي» او «علاتي» په مقابل کې «أعياني» مقدم دی، ددې څلورو واړو په استثناء او له ورور سره خور هم «عصبه» کيږي، دا اصلي «عصبه» نه دي، بلکه غير اصلي دي، پرته له اولاده او ورونو څخه د نورو نارينه وو سره ښځې نه «عصبه» کيږي، مثلا د تره ځوی «عصبه» دی، مګر ده سره د تره لور «عصبه» نشي کېدی.

فائده: د دې پاس ذکر شويو قسمونو يعنې «ذوي الفروضو» او «عصبه وو» څخه علاوه ځمونږ د امام أبو حنيفه «رحمه الله» په نزد درېم قسم وارث «ذوی الأرحام» هم شته، يعنې داسې قرابت لرونکي چې د ده او دمړي په منځ کې د ښځې واسطه وي، چې نه «ذوي الفروض» وي، او نه «عصبه» لکه لمسی، نيا، خوريي، ماما، ترور، تورۍ او د دوی اولاده، کله چې له کوم مړي څخه نه «ذوي الفروض» او نه «عصبه» يو هم نه وي پاتې، نو د هغه ميراث «ذوو الأرحامو» ته ور رسيږي، د دې تفصيل په کتابونو کې مذکور دی.

تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ ۚ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١٣﴾ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٤﴾

دا (د يتيمانو، ميراثونو، وصيت، او د دين تېر شوي حکمونه) حکمونه د الله دي، او هر څوک چې ومني حکم د الله او د رسول د ده؛ نو داخل به کړي الله دغه (مطيع په هسې) جنتونو کې چې بهيږي به له لاندې د (مانيو او ونو د) هغو ويالې، هميشه به وي (دوی) په دې (جنتونو) کې، او

دا (ننوتل جنت ته) مراد موندل (برى) دي ډېر لوى، او هر څوک چې نافرماني کوي د الله، او د رسول د ده، او وځي له حدوده د الله؛ نو داخل به کړي (الله) دغه (معتدي) اور ته چې همېشه به وي (دې) په هغه (اور د دوزخ) کې او (شته) ده ته عذاب ډېر سپکوونکى.

تفسير: يعنې دا پخواني ټول ذکر شوي احکام (چې د يتيمانو حقوق،وصيت او ميراث دى) د الله جل جلاله مقررې کړى شوې ضابطې او قاعدې دي، هر هغه څوک چې اطاعت کوي، او د الله تعالى احکام مني، چې په هغو کې د وصيت او د ميراث حکم هم شامل دى، نو د هغه لپاره تل جنت دى، او هر هغه څوک چې سر غړوي، او د الله تعالى له حدودو څخه بيخي خارجيږي (يعنې حلال يې حرام او حرام يې حلال ګڼي) نو هغه له ذلت او خوارى سره تل د جهنم په عذاب کې پاتې کيږي.

وَالّٰتِيْ يَاْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِّسَآىِٕكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ ۚ فَاِنْ شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ فِى الْبُيُوْتِ حَتّٰى يَتَوَفّٰىهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا ﴿۱۵﴾

او هغه (مېرمنې) ښځې چې راځي فاحشې (د زنا قبيح کار) ته له ښځو ستاسې، نو شاهدان وغواړئ (اى قاضيانو له قاذفه) پر دوى باندې څلور تنه له تاسې (مسلمانانو نه)، نو که شاهدي وويله (شاهدانو پر زنا) نو بندي کړئ تاسې دا (ښځې) په کوټو کې تر هغه پورې چې وفاتې کاندي دوى لره موت، يا وګرځوي (مقرر کړي) الله دوى لره کومه لاره د (خلاصې له بنده).

تفسير: «د ښځو تأديب او سمول يو ضروري امر دى، خو پر دوى باندې هيڅ قسم ظلم او تعدي کول ښه کار نه دى»، د جاهليت په زمانه کې په دې دواړو مواردو کې پر ښځو باندې ډېر تېرى او بې اعتدالي کېده، او په دې آيت کې د هغو د تأديب په نسبت حکم دى: «که دکومې زوجې په نسبت د زنا ارتکاب معلوم شو، نو د دې لپاره څلور تنه شاهدان چې هر يو يې مسلمان، عاقل، بالغ، او آزاد وي، ونيسئ !، که دا څلور واړه پر زنا يې شاهدي ورکړي؛ نو دا ښځه دې په کوټه کې مقيده وساتي، او هسې انتظام دې وکړي ! چې له کوره ونه وځي، او له چا سره کتنه ونه کړى شي، تر څو چې هغه ښځه مړه شي، يا الله تعالى د هغې لپاره کوم حکم او سزا مقرره وفرمايي، د دې آيت د نزول تر وخته يې د زانيې لپاره کوم حد نه وو مقرر فرمايلى، بلکه د تعيين وعده يې کړه، کله چې څه موده وروسته يې په (۱۸) جزء د «النور» د سورت په (۲) آيت، اوله رکوع کې د هغې حد نازل کړه، چې د باکرې لپاره يې سل دُرې او د ثيبې لپاره «رجم» يعنې په ګټو سره ويشتل دي، تر څو چې مړه شي.

وَالَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا ۚ

او هغه دوه سړي چې راځي دې (قبيح کار ته) له تاسې، نو ايذاء ورسوئ دوى ته !.

تفسير: يعنې که دوه تنه اعم له دې چې يو نارينه وي او بل ښځه وي، ياکه دواړه نارينه وي، يا دواړه ښځې (من حيث السحق) وي، او د بد فعل مرتکب شي، نو د هغوى سزا يې مجملا په ايذاء ورکولو سره ارشاد وفرمايله، په ژبه سره وي، که په خوله سره، هومره چې مناسب وي، د هغو د تأديب او تنبيه ورکولو حکم شوى دى.

د لواطت لپاره يې کوم جدا بيان ونه فرمايه، او په هغه کې د عالمانو سره اختلاف دى، چې د «لواطت» لپاره هم هغه حد مقرر دى، چې د «زنا» لپاره ټاکلى شوى دى، يا د «لواطت» همغه سزا باقي پاتې ده چې پخوا وه، يا دهغه سزا په توره يا په بله کومه طريقه سره وژل دي.

فائده: اکثر علما دا آیت پر زنا محمولوي، او ځینو پر «لواطت» حمل کړی دی، او ځینې یې پر دواړو شامل ګڼي، (ځینې وایي: ﴿وَالّٰتِیْ﴾ - ﴿مِنْ نِّسَآىِٕكُمْ﴾...» پر سحاقاتو، او ﴿وَالَّذٰنِ﴾ - ﴿مِنْكُمْ﴾...» په لواطت کوونکو او ﴿اَلزَّانِیَةُ وَالزَّانِیْ﴾ په زانیانو پورې مخصوص دی، نو په دغه تقدیر پاس آیت نه دی منسوخ).

فَاِنْ تَابَا وَاَصْلَحَا فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِیْمًا ﴿۱۶﴾

نو که توبه ویسته دې دواړو او اصلاح کړ دواړو (عمل خپل) نو څنګ وکړئ (مخ واړوی) تاسې له دې دواړو نه، بېشکه چې الله دی ښه توبه قبلوونکی (د ګناهګارانو) ډېر رحم کوونکی.

اِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللّٰهِ لِلَّذِیْنَ یَعْمَلُوْنَ السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ یَتُوْبُوْنَ مِنْ قَرِیْبٍ فَاُولٰٓىِٕكَ یَتُوْبُ اللّٰهُ عَلَیْهِمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِیْمًا حَكِیْمًا ﴿۱۷﴾

بېشکه (قبلول د) توبې په الله (د وفاء له مخې) دي لپاره د هغو کسانو چې کوي دوی ناکاره عمل په ناپوهۍ سره، بیا توبه وباسي دوی، په نږدې زمانه کې (له موت نه پخوا) نو دغه کسان رجوع به کوي په رحمت سره الله په دوی باندې، او دی الله ښه عالم (په پټو او ښکاره وو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

تفسیر: یعنې توبه خو بېشکه داسې شی دی، چې په هغه سره د «زنا» او د «لواطت» په شان درانه جرمونه هم الله تعالی معافوي، لکه چې له پخواني آیت څخه مفهوم شو، لیکن د دې خبرې لحاظ هم ښایي خامخا وکړو، الله تعالی په خپل فضل او کرم سره د توبې د قبلولو وعده فرمایلې ده، هغه اصلاً په هغو خلقو پورې مخصوصه ده، چې په بې خبرۍ او ناپوهۍ سره کومه کبیره یا صغیره ګناه ترې صادره شي، مګر هر کله چې په خپلې خرابۍ باندې منتبه او مطلع شي، نو سمدلاسه پښېمانه او توبه وکړي، نو الله تعالی داسې خطاوې خامخا (تفضلا) ور معافوي، او پاک الله پر هر شي باندې پوهیږي، او دا خبره ورته ښکاره ده چې کوم یوه په ناپوهي سره ګناه کړې ده؟ او کوم یوه په اخلاص سره توبه ایستلې ده؟ او د حکمت څښتن (خاوند) دی، د هر چا توبه چې سم له حکمته سره وي قبلوي یې.

فائده: د «جهالت» او د «قریب» له قیدونو معلومیږي، هر څوک چې د ناپوهۍ لامله ګناه کوي، او وروسته له تنبیه ژر توبه کوي، نو (تفضلا) د عدالت او د حکمت له قاعدې سره سم د هغه توبه قبلوي، او هر څوک چې په قصد او عمد سره د پاک الله له احکامو څخې د غاړې غړولو جرأت وکړي، یا وروسته د خپلې ګناه له پوهیدلو څخه په توبه ایستلو کې تأخیر او په همغه پخواني حالت باندې قیام او دوام کوي؛ نو د عدل او انصاف له قاعدې سره سم د هغه خطا اصلا د معافولو وړ نه ده، او د هغې قبلول یوائې د الله تعالی فضل او کرم دی، چې په خپلې مهربانۍ سره د دوی دواړو توبې قبلوي، دا خو د پاک الله احسان دی، او (تفضلا) ذمه واري فقط په اول صورت کې ده، او په نورو کې نشته.

وَلَیْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِیْنَ یَعْمَلُوْنَ السَّیِّاٰتِ ۚ حَتّٰۤى اِذَا حَضَرَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ اِنِّیْ تُبْتُ الْـٰٔنَ وَلَا الَّذِیْنَ یَمُوْتُوْنَ وَهُمْ كُفَّارٌ ؕ اُولٰٓىِٕكَ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِیْمًا ﴿۱۸﴾

او نشته (وعده د قبول د) توبې لپاره د هغو کسانو چې کوي دوی ګناهونه، تر هغه پورې چې راحاضر شي یو د دوی ته مرګ، نو وایي: چې بېشکه ما توبه وویسته اوس، او نه (قبلېدی شي توبه) لپاره د هغو کسانو چې دوی مړه شي حال دا چې دوی کافران وي، دغه کسان (چې د کفر په حالت کې مري، په عین غرغره کې توبه کوي) تیار کړی دی مونږ دوی ته عذاب دردناک.

تفسير: يعني د داسې خلقو توبه نه قبليږي، چې پر له پسې ګناه کوي، او له ګناه ځني مخ نه اړوي، تر څو چې د مرګ علامې او اسباب په نظر ورشي، نو په هغه وخت کې وايي چې: زه اوس توبه کوم، او نه د هغه چا توبه قبليږي چې د کفر په حالت کې مړ شي، او وروسته د اخروي عذاب له ليدلو څخه توبه کوي، د داسې خلقو لپاره شديد عذاب تيار دی.

تنبيه: دا دواړه آيتونه چې د توبې د قبول او د توبې د عدم قبول په نسبت دلته مذکور دي، د دوی کوم مطلب چې مونږ پاس بيان کړ، هغه د ځينو لويو محققينو له تحقيقاتو سره سم دی، او په هغه کې دا ښه والی دی چې د «جهالت» قيد او د «قريب» لفظ دواړه په خپلې ظاهر ي معنی باندې قائم پاتې دي، او د «علی الله» معنی هم په سهولت سره جوړه شوه، او په دې موقع کې د توبې د قبول او عدم قبول د ذکر فرمايلو مقصد هم په ښه شان سره عيان شو، يعني د «کيفما اتفق» توبه مقبوله نه ده، او د توبې څو صورتونه دي، او د دې په مقبوليت کې هم فرقونه شته، تر څو چې د توبې په اعتماد څوک پر ګناهونو باندې جرأت ونه کړي، او دا مقصد هم په دې صورت سره ښه حاصليږي.

مګر نورو مفسرينو حضراتو چې علی العموم د دې آيتونو مطلب يې ارشاد فرمايلې دی، د «جهالت» قيد يې «احترازي» او «شرطي» قيد نه دی اخيستی، بلکه (واقعي) قيد يې ګڼې، او وايي چې: ګناه تل له جهله او حماقته څرګندېږي، او د «قريب» معنی داسې کوي چې: د موت له راتللو څخه پخوا څومره وخت چې وي، هغه ګرد ته «قريب» ويلې شي، ځکه چې د دنيا ژوندون قليل دی.

نو په دې صورت کې يې مطلب داسې کيږي چې: «د الله تعالی هغه وعده چې د توبې د قبلولو په نسبت يې فرمايلې ده، له هغو سره ده، چې د ناپوهۍ او د خپل پای او انجام د نه کتلو لامله ګناه کوي، او بيا د موت له راتګه څخه پخوا تائب کيږي، او هغه کسان چې موت يې ليدلی او د نزعې حالت ته رسېدلي دي، يا هغه کسان چې کافران مړه شوي دي، نو د دوی توبه له سره نه قبليږي، له دې تقريره سره به سم د توبه کوونکو د هغو د دوو بين بين صورتونه چې په لومړني تقرير کې مذکور شوي دي، په اول شق (د توبې په قبول) کې شمېرل کيږي».

فائده: کله چې د موت يقين راشي، او بل عالم په سترګو وکتلی شي، نو په هغه وخت کې توبه نه قبليږي، هو ! د اخروي عالم له کتلو څخه پخوا توبه قبليږي، چې له لومړني تفسير سره په اول صورت کې د توبې قبول د عدل او انصاف له قاعدې سره سم دی، او په نورو صورتونو کې د توبې قبول يواځې د هغه په فضل او کرم سره دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَحِلُّ لَكُمۡ أَن تَرِثُواْ ٱلنِّسَآءَ كَرۡهٗاۖ وَلَا تَعۡضُلُوهُنَّ لِتَذۡهَبُواْ بِبَعۡضِ مَآ ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ إِلَّآ أَن يَأۡتِينَ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖۚ

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو !) نه دی حلال تاسې لره دا (کار) چې په ميراث به اخلئ تاسې ښځې په زور سره، او مه منع کوئ تاسې دا (ښځې) د نکاح کولو نه لپاره د دې چې يوسئ (ترې واخلئ) تاسې ځينې د هغه مال چې ورکړی وي تاسې دوی ته (په مهر کې) مګر چې راشي (وکاندي) دوی فاحشه (قبيح کار: نشوز يا زنا) ښکاره.

تفسير: په پخواني بيان کې يې د ښځو د بد افعالی او د تأديب او سمولو حکم ورکړی وو، اوس د اهل جاهليت له هغه ظلم او تعدی څخه منع فرمايي، چې په ډول ډول صورتونو پر ښځو باندې اجراء کېدل، د هغو صورتونو له منځه يو صورت دا هم وو: «کله چې به څوک مړ کېده نو د دې مړي ښځه به د علاتي ځوی يا ورور يا د بل کوم وارث له لوري بندي ساتله کېده، بيا به يې که زړه غوښتل له هغې سره به يې نکاح ترلې، يا به يې همغسې بې نکاح په خپل کور کې ساتله، او د هغې ټول مهر يا څه برخه به يې ترې آخيسته، يا به يې تر مرګه پورې هلته بندی ساتله، او د هغې د مال به وارث کېده»، نو د دې په نسبت دا آيت نازل شو، چې خلاصه يې دا ده: «کله چې څوک مړ شي نو د هغه

مړي ورور يا بل کوم وارث لره دا اختيار نشته، چې هغه ښځه په زور سره په خپله نکاح کې کې راولي، او نه هغه ښځه د بل چا له نکاح منع کولی شي، هو ! که هغې کومه صريحه بد عملي وکړله، نو له هغې بد عملی څخه د هغې منع کول په کار دي».

وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰ أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا ﴿١٩﴾

او ګزران کوئ تاسې (ای مَړونو) له دې (ښځو) سره په نېکې طريقې سره !، پس که خوښې نه وې ستاسې دا ښځې نو (صبر وکړئ) ښايې چې نه به خوښوئ تاسې يو شی حال دا چې ګرځولی به وي الله په دې شي کې خير ډېر .

تفسير: يعنې له ښځو سره په خبرو اترو (په افعالو او احوالو، په نفقه او کسوت، په مسکن او مأمن) او نورو معاملاتو کې په ښو خويونو سره معامله وکړئ ! د جاهليت په شان (چې د ذلت او د سختی سلوک له ښځو سره کېده) له هغوی سره خراب سلوک مه کوئ ! بيا ستاسې د کومې ښځې کوم خصلت او خوی او عادت خوښ نه وي، نو صبر وکړئ، کېږي چې په هغې کې کومه فائده هم وي، او ممکن دی چې تاسې ته کوم شی ښه نه درښکاري، او الله تعالی په هغه کې ستاسې لپاره ديني يا دنيوي کومه ګټه ايښې وي، نو تاسې لره تحمل کول په کار دي، او له بد خوی سره بد خويي نه ښايي چې وکړه شي.

وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا ۚ أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا ﴿٢٠﴾

او که اراده وکړئ تاسې (ای مړونو) د بدلولو د يوې ښځې په ځای د بلې ښځې (چې يوه طلاقه او بله نکاح کړئ !) حال دا چې ورکړی وي تاسې يوې ته د دوی ډېر مال (په مهر کې هم) نو مه اخلئ تاسې (ای مړونو ! بېرته) له هغه مال نه هيڅ شی، آيا اخلئ به تاسې دغه (مال) په نا حقه (په دروغو بې موجبه) او په ګناه ښکاره (ظلم ظاهر سره).

تفسير: له اسلام څخه پخوا داسې هم کېده، کله چې به کوم مېړه (خاوند) غوښتل چې خپله پخوانۍ ښځه پرېږدي، او له بلې کومې ښځې سره نکاح وترې، نو پر پخوانۍ ښځه باندې به يې تهمت لګاوه، او راز راز ظلم تېرې او سختي به يې پرې راوستې، تر څو هغه مجبوره شي، او خپل مهر وبېرته ورکړي، چې مېړه يې هغه مهر په خپلې نوې نکاح کې ولګوي، دا آيت د دې کار څخه د منعې راوړلو لپاره نازل شو.

وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُ وَقَدْ أَفْضَىٰ بَعْضُكُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا ﴿٢١﴾

او څرنګه به اخلئ تاسې هغه مال، حال دا چې په تحقيق سره رسېدلي دي ځينې له تاسې ځينو (نورو) ته (په طريقه د مباشرت سره)، او اخيستئ دی (ښځو) له تاسې نه عهد کلک (د صحبت او ممازجت «قربت» په حق کې).

تفسير: يعنې کله چې نارينه او ښځه له نکاح څخه وروسته يو ځای شي، او د ناستې ملاستې وار راشي، نو د هغې په معاوضه کې ټول مهر ورکول په مېړه باندې واجبېږي، نو اوس مېړه هغه مهر له دې ځنې په کوم سبب اخيستی شي؟ ! او که يې مهر نه وي ور رسولی نو د هغې مهر څرنګه معطلولې شي؟ اوس پرته له دې نه چې هغه مهر دا ښځه په خپله خوښه سره ورپرېږدي د نجات او د ژغورنې (بچ کېدلو) بله کومه لاره نه ده پاتې.

فائده: ښايي چې وپوهيږو: لکه چې وروسته له مجامعته ټول مهر د مېړه (خاوند) په غاړه لازميږي، هم داسې که مجامعت ته وار ونه رسيږي، مګر صحيحه خلوت يې ورسره کړی وي، نو بيا هم پوره مهر واجب الأداء ګرځي، هو ! که صحيحه خلوت ته هم وار نه وي رسېدلی، او مېړه (خاوند) يې طلاق ورکړي؛ نو بيا د مسمی مهر نيمايي ورکول پرې لازميږي.

وَلَا تَنكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُم مِّنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ۚ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَمَقْتًا وَسَاءَ سَبِيلًا ﴿٢٢﴾

او مه اخلئ تاسې په نکاح سره هغه (ښځې) چې نکاح کړي دي پلرونو ستاسې له ښځو، مګر هغه چې پخوا له دې تېرې شوي دي، بېشکه چې دا (کار) دی فاحش (ډېر ناکاره) او ډېر مبغوض (شرعي ته)، او بده (ده دا) لاره (عُرف ته).

تفسير: د جاهليت خلقو له خپلو ميرو ميندو، او نورو ځينو محرماتو سره هم نکاح کوله، چې د هغې ذکر اوس تېر شو، نو دلته له هسې نکاح ځنې هم ممانعت کاوه شي، چې تاسې له هغو ښځو سره چې ستاسې پلرونو نکاح ورسره ترلې وي؛ نکاح مه ترئ ! ځکه چې دا بېحيايي او د الله تعالى د غضب سبب، او ډېر منفور کار، او ډېره بده طريقه ده، او د جاهليت په زمانه کې هم پوهانو هغه مذموم ګڼه، او هسې نکاح ته يې د (مقت نکاح) او له دې نکاح څخه چې به کوم وړوکی پيدا کېده هغه ته به يې «مقتي» ويل، هسې نکاح هومره چې شوي دي، شوي دي، وروسته له دې نه دې بيخي ونه کړه شي !.

فائده: کوم حکم چې د پلار د منکوحې په نسبت دی، په همغه حکم کې د پلارنيو او مورنيو نيکونو منکوحې هم داخلي دي، اګر که د ډېرو پورته نيکونو هم وي.

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالَاتُكُمْ وَبَنَاتُ الْأَخِ وَبَنَاتُ الْأُخْتِ

حرامې کړی شوي دي پر تاسې مېندې ستاسې او لونې ستاسې او (حرامې شوي دي پر تاسې) خويندې ستاسې، او عمې (تروريانې) ستاسې، او خالې (توړيانې) ستاسې، او لونې د ورور (ورېرې ستاسې)، او لونې د خور (خورځې ستاسې).

تفسير: د ميرې د نکاح د حرمت له بيانولو نه وروسته اوس د هغو ګردو ښځو بيان کوي، چې له هغوی سره نکاح ترلې جائز نه دي، او دا ښځې (۱۴) قسمه دي، ۷ نسبي، او ۷ سببي.

اول د هغو بيان کاوه شي، چې د نسب د علاقې له سببه حرامې دي، او هغه اوه دي: (۱) مور (۲) خور (۳) لور (۴) ترور (۵) توړی (۶) ورېره (۷) خورځه، چې له دوی ځنې له هيڅ يوې سره نکاح ترلې جائز نه دي، (او حرمت يې ابدي دی).

فائده: د مور تر حکم لاندې مورنی او پلارنی نيا ګانې تر آخره پورې ګردې داخلي دي، هم داسې د لور تر حکم لاندې لمسی، کړوسی تر آخره پورې ټولې داخلې دي، او په خور کې عيني (سکه چې مور او پلار يې يو وي) علاتي (چې پلار يې يو او مور يې بېله بېله وي) او أخيافي (چې پلار يې بېل بېل وي، او مور يې يوه وي) ګردې داخلې دي، او په ترور (عمې) کې د پلرونو، نيکونو، خويندې تر پورتنيو پېړيو پورې عيني وي، که علاتي يا أخيافي؛ ګردې داخلې دي، او په توړی (خالې) کې د مور نيا، د نيا نيا او د ګردو خويندې سره له دې واړو قسمونو داخلي دي، او په ورېره کې د دې قسمونو ورونو أولاد، أولاد الأولاد ټول داخل دي، او په خورځه کې د دې قسمه خويندو أولاد، أولاد الأولاد ګرد سره داخلي دي.

وَأُمَّهَٰتُكُمُ ٱلَّٰتِيٓ أَرۡضَعۡنَكُمۡ وَأَخَوَٰتُكُم مِّنَ ٱلرَّضَٰعَةِ

او (حرامې کړی شوي دي پر تاسې) میندې ستاسې هغه چې تی یې درکړی وي تاسې ته، او خویندې ستاسې له جهته د تي رودلو.

تفسیر: په «نسبي» محرماتو پسې اوس د «رضاعي» محرماتو ذکر کیږي، او هغه دوه دي، (۱) رضاعي مور. (۲) رضاعي خور، او په دې کې اشاره ده چې اوه واړه خپلوی چې په نسب کې سره بیان شوي، په رضاعت کې هم حرامې دي، یعنې رضاعي لور، ترور، تورۍ، ورېره، او خورځه، ګرد سره محرماتې دي، لکه چې په احادیثو کې دا حکم شته.

وَأُمَّهَٰتُ نِسَآئِكُمۡ وَرَبَٰٓئِبُكُمُ ٱلَّٰتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ ٱلَّٰتِي دَخَلۡتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمۡ تَكُونُواْ دَخَلۡتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ وَحَلَٰٓئِلُ أَبۡنَآئِكُمُ ٱلَّذِينَ مِنۡ أَصۡلَٰبِكُمۡ وَأَن تَجۡمَعُواْ بَيۡنَ ٱلۡأُخۡتَيۡنِ إِلَّا مَا قَدۡ سَلَفَ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٢٣

او (حرامې کړی شوي دي پر تاسې) میندې د ښځو ستاسې، او پرکتیانې ستاسې هغه چې په غېږو ستاسې کې (یې تربیت موندلی، او پیدا شوي) دي؛ له ښځو ستاسې هغه چې دخول (مجامعت) کړی وي تاسې له دوی سره، پس که نه وئ تاسې چې دخول (مجامعت) کړی دی تاسې له دوی سره؛ نو نشته هیڅ ګناه پر تاسې باندې (په نکاح) د پرکتیو کې، (او حرامې کړی شوي دي پر تاسې) ښځې د ځامنو ستاسې، هغه چې له شاګانو ستاسې (پیدا) دي، او (حرامې کړی شوي دي پر تاسې دا کار) چې جمع وکړئ په منځ د دوه وو خویندو کې مګر هغه چې په تحقیق پخوا تېرې شوي دي، بېشکه چې الله دی ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسیر: اوس د «مصاهرې» د محرماتو ذکر دی، یعنې د نکاح د علاقې له سببه چې له چا سره نکاح حرامیږي، او هغه په دوه قسمه ده:

(اول): هغه چې له دې سره د تل لپاره نکاح نا جائزه ده، هغه د زوجې د مور او د دې زوجې لور ده، چې د هغې له موره سره تاسې جماع کړې وي، او په دوی کې تر لاندې پورې د لمسي او کړوسي ښځې هم داخلیږي، او له دوی سره ستاسی نکاح له سره روا نه ده.

(دویم): قسم هغه ده، چې له دوی سره تل د نکاح ممانعت نه وي، بلکه تر هغه پورې چې کومه ښځه ستاسې په نکاح کې وي، تر هغه پورې د دې ښځې نورو خپلوانو ښځو سره د نکاح ممانعت وي، خو کله چې هغې ښځې ته طلاق ورکړئ ! یا وروسته مړه شي، نو بیا له هغو سره به مو نکاح ترڼ روا کیږي، او دغه د هغې زوجې خور ده چې د زوجې په شتوالي کې له هغې سره نکاح نه ده روا، او وروسته له هغې ورسره نکاح جائزه ده، او همداسې د زوجې د عمې، خالې ورېرې او خورځې حکم دی.

فائده: دا یې چې وفرمایل: ښځې ستاسې د هغو ځامنو چې ستاسې له شاګانو وي، د هغه مطلب دا دی چې: ستاسې ځامن یا لمسي نسبي وي، نه د خولې، یعنې تش ستاسې په غېږو کې لوی شوي نه وي، چې هغه ته «متبنی» وایي، او له «رضاعي» ځنې احتراز نه دی.

او د ﴿إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ﴾ مطلب دا دی چې د جاهلیت په زمانه کې او له دې حکم څخه پخوا هغه اجتماع چې د دوه وو خویندو په منځ کې شوې ده، هغه معاف ده.

او ﴿فِي حُجُورِكُمْ﴾ له فرمایلو ځنې دا مطلب دی «هغه چې تاسې یې پخپلې غېږې کې روزنه او پالنه کوئ، یعنې د اولاد په شان له هغوی سره معامله کوئ»، ځکه چې د زړه له کومې یې اولاد ګڼئ، له دې ځنې د دوی د نکاح حرمت لا ښکاره شو، او دا مطلب نه دی چې د هغوی د حرمت لپاره د هغوی پالل او روزل په غېږ کې ضروري دي.

وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ۚ كِتَابَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ ۚ

او (حرامې کړی شوي دي پر تاسې) مېړوښې (منکوحې) له ښځو مګر هغه (مېړوښې ـ منکوحې) چې مالکان شوي دي (د هغو) ښې لاسونه ستاسې، فرض کړی دی الله پر تاسې (تحریم د دې پورته محرماتو).

تفسیر: د محرماتو له ذکر کولو څخه وروسته اوس د هغو ښځو د حرمت بیان فرمایي؛ چې د بل چا په نکاح کې وي، یعنې هغه ښځه چې د بل چا په نکاح کې و ي د هغې نکاح له بل سره نه روا کیږي، تر څو چې هغه په طلاق یا وفات له خپل میړه جدا او د طلاق یا موت عدت یې پوره نشي، نو تر دې وخته پورې هیڅوک له دې سره خپله نکاح نشي ترلی، که کومه مېړوښه (منکوحه) ښځه ستاسې په «ملك الیمین» کې راشي، نو هغه له دې حکم څخه مستثنی او پر تاسې باندې روا ده، اګر که مېړه (خاوند) یې ژوندی هم وي، او دې ته یې طلاق هم نه وي ورکړی، او صورت یې دا دی چې یو کافر نارینه له یوې کافرې ښځې سره نکاح ترلي وي، او مسلمانان پر «دار الحرب» باندې یرغل (حمله) وروړي، او هغه مېړوښه (منکوحه) ښځه اسیره کړي، او «دار الاسلام» ته یې راولي، نو دا ښځه چې د هر مسلمان په لاس ورغلې وي هغه ته حلاله ده، اګر که د هغې مېړه په «دار الحرب» کې ژوندی موجود وي، او خپلې دې ښځې ته یې طلاق هم نه وي ورکړی.

د ګردو محرماتو له بیانولو څخه وروسته تأکید فرمایي چې دا د الله جل جلاله حکم دی، د هغه منل پر تاسې باندې لازم دي، (کتاب الله د محذوف فعل مصدر دی، یعنې کتب الله علیکم حرمة هذه المحرمات، لیکلي دي الله حرمت د دغو محرماتو پر تاسې باندې په لیکلو سره، او تقدیر یې کړی په تقدیر کولو سره).

وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ ۚ

او حلالې کړی شوي دي تاسې ته (ټولې ښځې) چې پرته له دوی څخه دي (په دې شرط) چې طلب وکړئ تاسې (د هغو) په مالونو خپلو (چې مهر دی)، په دې حال کې چې ساتکوني شئ (د خپل دین په نکاح سره) نه زنا کوونکي.

تفسیر: یعنې بې له هغو (۱۵) اقسامو ښځو څخه د دوی د حرمت بیان وشو، نورې ګردې ښځې په څلورو شرطونو حلالې دي:

(۱): دا چې طلب یې کړئ ! یعنې په ژبې سره «ایجاب» او «قبول» د دواړو له خوا وشي.

(۲) دا چې مهر ورکول ومنئ !.

(۳) دا چې د هغې ښځې پخپل واک (اختیار) کې راوړل او په قید او قبضه کې ساتل مقصود وي، او تش ورسره شهوت پرستي مقصود نه وي، لکه چې په زنا کې وي، یعنې د همیشه لپاره هغه د ده ارتینه (ښځه) شي، او بې له

پرېښودلو او طلاقولو له خپل مېړه څخه بېلېدلی نشي، مطلب دا چې کومه موده نه وي مقرره شوي، نو له دې ځنې د «متعه» حرمت ښکاره شو، چې د حق د خاوندانو پرې اجماع ده، (چې پر همدی داهل حقو اجماع هم ده).

(۴) شرط چې په نورو آیتونو کې مذکور دی، دا چې په مخفي ډول سره دوستي نه وي، یعنې لږ تر لږه دوه نارینه یا یو نارینه او دوې ښځې د دې نکاح په معامله کې شاهدان وي، که بې له شاهدانو ایجاب او قبول وشي، نو هغه نکاح نه صحیحه کیږي، او زنا بلله شي.

فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً ؕ

پس هر هغه ښځه چې نفع واخیسته تاسې په هغې سره له دې (منکوحو ښځو) څخه نو ورکړئ تاسې دوی ته مهرونه د دوی، په دې حال کې چې فرض کړی شوی دی.

تفسیر: یعنې له هغې ښځې سره چې نکاح وترله شوه، او مېړه له هغې څخه تر لږې یا ډېر تاکلي مودې پورې نفع هم واخیسته، یا لږ تر لږه یو ځلې «وطي» یا صحیحه خلوت ته وار ورسېد، نو د دې ښځې پوره مهر ورکول لازمیږي، تر څو چې هغه ښځه خپل مهر ورونه وبخښي، نو په هیڅ ډول هغه د ده له غاړې څخه نه خلاصیږي، که ښځه بیخي په کار ورنشي، او پخوا له صحیحه خلوت مېړه یې طلاق ورکړي، نو د مقرر مهر نیمایي پرې لازمیږي.

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ بِهٖ مِنْۢ بَعْدِ الْفَرِيْضَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝۲۴

او نشته ګناه پر تاسې باندې (ای مېړونو او ښځو !) په هغه شي کې چې راضي شوي یئ تاسې په هغې باندې پس له مقررولو (د مهر)، بېشکه چې الله دی ښه عالم (په پټو او ښکارو) ډېر حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي.

تفسیر: یعنې که زوجین د مهر له مقررولو څخه وروسته پر کومه خبره باندې سره راضي شول، مثلا ښځه په خپله خوښه له مهر ځنې څه شی لږ کړي، یا نارینه پخپله رضا سره له مقرر مهر څخه څه زیات ورکړي، نو مختار دی او په دې کې هیڅ وبال نشته، او داسې دې ونه کړي چې له مقرر مهر څخه مېړه څه شی لږ کړي !، یا ښځه له هغه څخه څه زیات وغواړي، هو ! د دواړو خواوو رضا شرط ده.

(یا دا معنی چې د نفقې، صحبت، مفارقت او نورو په کیفیت کې په هر شان چې بیا سره راضي شول).

په آخره کې یې وفرمایل چې: الله تعالی ته ستاسې ګرد مصالح او هر راز نفع او نقصان ښه معلوم دی، او هر حکم چې فرمایي هغه بیخي له ګټې او حکمت څخه ډک وي، د هغه په متابعت کې ستاسې د دارینو منافع او ښېګڼې او په مخالفت کې یې ستاسې نقصان او تاوان دی.

وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ؕ

او هغه څوک چې توان نه لري له تاسې له جهته د غنی د دې چې په نکاح واخلي اصیلې مؤمنې ښځې، نو (په نکاح دې واخلي) له هغو ښځو چې مالکان شوي دي (د هغو) ښې لاسونه ستاسې، له (هغو) وینځو ستاسې چې مؤمنې وي.

تفسیر: یعنې هغه څوک چې د دې خبرې قدرت نه لري، چې له آزادې ښځې سره خپله نکاح وترې، او د هغې د مهر او د نفقې تحمل وکړی شي، نو داسې سړي لره دا بهتره ده چې له کومې داسې مسلمانانې وینځې سره خپله نکاح وترې، چې د هغې مهر لږ او نفقه یې هم آسانه وي، او که مالک یې په خپل کور کې وساتي (لکه چې اکثر یې ساتي

هم) نو مېړه (خاوند) يې د هغې له نفقې څخه فارغ البال ګرځي، او که مېړه ته يې ور وسپاري، نو بيا هم د اصيلې د نفقې په نسبت د دې وينځې په نفقه کې خامخا تخفيف شته.

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ ۭ بَعْضُكُمْ مِّنْ بَعْضٍ ۚ

او الله ته ښه معلوم دی ايمان ستاسې، ځينې ستاسې له ځينو نورو يئ ! (يعنې ټول د يوه پلار آدم اولاده يئ !).

تفسير: يعنې الله تعالى ته ستاسې د ټولو د ايمان اصلي کيفيت معلوم دی، تاسې لره ښايي چې په ښکاره باندې اکتفاء وکړئ !، د ځينو وينځو ايمان د الله تعالى په نزد د ځينو آزادو ښځو له ايمان ځنې بهتر او افضل کېدی شي، نو د ايمان له حيثيته د وينځې په نکاح کولو کې نه ښايي چې څه انکار وکړئ، ځکه تاسې په خپلو منځونو کې ګرد سره يو او له يوه اصله پيدا شوي يئ ! او په يوه دين کې سره شريکان يئ، نو بيا له وينځو سره نکاح ترڅو ولې عيب او ننګ او عار ګڼئ؟ په دې کلام سره د وينځو د نکاح په لوري توجه ورکول او له دوی ځنې د نفرت د احساس لرې کول مطلوب دي.

فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ ۚ

نو په نکاح واخلئ (د بل چا) وينځې په اذن د بادارانو مولاګانو د دوی، او ورکړئ تاسې دوی ته مهرونه د دوی په معروف (سم له دستوره په نېکه وجه) سره، چې وي دوی عفيفې ساتلې شوې له زنا، چې نه وي زنا کوونکې په ښکاره، او نه وي نيوونکې د پټو يارانو.

فَاِذَآ اُحْصِنَّ فَاِنْ اَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَي الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ ۭ

نو کله چې مېړوښې (واده) کړی شوې دوی، پس که راتله وکړه دوی په فاحشه (زنا) سره؛ نو په دوی باندې نصف (نيمائي) د هغه څه دی چې په اصيلو ښځو باندې دی د عذاب (له حده چې پنځوس دُرې دي).

تفسير: يعنې هر هغه آزاد نارينه يا ښځه چې له نکاح ځنې يې فائده اخيستې وي، يعنې روا مجامعت يې کړی وي، او بيا زنا کوي، نو دا زاني دې سنګسار او په ګټو سره دې وويشتلی شي ! او که نکاح يې نه وي شوي، او پخوا له نکاح څخه يې زنا وکړه، نو د هغه لپاره حکم دی چې يو سل دورې دې وواهه شي، او مريي او وينځې لپاره مخکې او وروسته له نکاح څخه په هر حالت کې يوائې د پنځوسو درو وهلو حکم شته او بس.

ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ ۭ وَاَنْ تَصْبِرُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۲۵

دا (په نکاح اخيستل د وينځو) لپاره د هغه چا دي چې ويريږي له ضرره (چې زنا ده) له تاسې نه، او دا چې صبر وکړئ تاسې (له وينځو) خير (غوره) دی تاسې ته، او الله ښه مغفرت کوونکی دی (د خطياتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: يعنې په تاسې کې له وينځو سره د نکاح کولو ارشاد او استحسان د هغه سړي په حق کې دی، چې له مشقت تکليف او ضرره يعنې د زنا له اخته کېدو ويريږي، که تاسې صبر و کړئ ! او له وينځو سره نکاح ونه کړئ ! نو دا ستاسې په حق کې ډېره ښه ده، ځکه چې ستاسې اولاد به آزاد وي، هو ! له هر چا سره چې څه اند ښښنه وي، چې صبر او تحمل به ونشي کولی، نو هغه ته دا بهتره ده چې په هسې حالت کې کومې وينځې سره خپله نکاح وترې، او الله ښه بخښونکی دی لپاره د صبر کوونکو.

يُرِيدُ اللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦﴾

اراده لري الله چې بيان کړي تاسې ته (شرعي احکام) او وښيي تاسې ته لاره د هغو کسانو چې پخوا له تاسې وو (له انبياوو، او بوځې تاسې په همغه سمه صافه لاره) او رجوع وکړي په رحمت سره پر تاسې باندې، او الله ښه عالم دی (په پټو او ښکاره وو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: يعنې د الله تعالى اراده د دې احکامو له ارشاد څخه هم دا ده، چې تاسې ته د حلالو او حرامو حال معلوم شي، او د پخوانيو انبياوو لاره در په برخه شي، لکه ابراهيم عليه السلام او نورو او مغفرت ستاسې په برخه کړي، او الله جل جلاله ته ستاسې مصالح او نور ګرد حالات پوره څرګند دي، او د الله جل جلاله په هر حکم او تدبير کې حکمت دی، که اوس د هغه د حکم اطاعت و نه کړئ؛ نو له هدايت څخه محرومېږئ، او د پخوانيو پيغمبرانو له سنتو څخه هم مخالفت کوئ ! او د الله تعالى له رحمت او مغفرت نه هم بې برخې کېږئ، (نو ځکه تاسې ته بيانوي هغه څه چې مخفي وو له تاسې نه چې هغه د وينځو احکام او حقوق، د محرماتو حدود، د مباحو د اکتساب قيود، اخروي وعد او وعيد، او د دنيوي ژوند د اصلاحاتو تحديد دی، څو چې تاسې ته د هغو انبياوو او صالحانو لاره در وښيي، چې پخوا له تاسې نه تېر شوي دي، او تاسې هغوی پسې اقتدا وکړئ !.

وَاللَّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيْكُمْ وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوَاتِ أَن تَمِيلُوا مَيْلًا عَظِيمًا ﴿٢٧﴾

او الله اراده لري چې رجوع وکړي په رحمت سره پر تاسې باندې، او اراده لري هغه کسان چې متابعت کوي د شهواتو (د نفس د آرزوګانو) د دې چې کاږه شئ تاسې (د حق له لارې څخه) په کږېدلو ډېرو لويو او لرې سره.

تفسير: يعنې دا مختلف قيود چې پخوا له دې نه تېر شول، له هغو څخه پر تاسې باندې رحمت فرمايل مطلوب دي، او هغه کسان چې په خپلو شهواتو کې اخته دي، دا غواړي چې تاسې له سمې لارې لرې ولوېږئ، يعنې د هغوی په شان تاسې د خپلو شهواتو اتباع وکړئ، او ګمراهان شئ.

يُرِيدُ اللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمْ ۚ وَخُلِقَ الْإِنسَانُ ضَعِيفًا ﴿٢٨﴾

اراده لري الله ددې چې سپک کړي (بار) له تاسې نه، او پيدا کړی شوی دی انسان ضعيف (کمزوری چې د دروند بار طاقت نه لري).

تفسير: يعنې الله تعالى انسان ضعيف پيدا کړی دی، او الله تعالى ته ښه معلومه ده، چې انسان له خپلو شهواتو او مرغوباتو څخه تر کومه ځايه پورې صبر کولی شي، او له هغه څخه زيات صبر نشي کولی، نو ځکه يې په هر حکم کې د تخفيف لحاظ هم فرمايلې دی، داسې نه ده چې هر هغه شی چې د انسان لپاره مفيد ليدلی شوی دی، همغه يې ور په غاړه کړی دی، سخت وي که آسان، مثلا له ښځو ځنې ځان ساتل او له شهوت نه صبر کول د انسان لپاره ډېر سخت وو، نو ځکه الله تعالى جل وعلا شأنه د ده د خواهش د پوره کولو لپاره جائزې طريقې ور وښوولې، چې په هغو سره خپل مطلب حاصل کړی شي، او داسې يې نه دي فرمايلي چې: انسان د شهوت له سر ته رسولو څخه بيخي منع کړی شوی دی، حق تعالى په خپل رحمت سره په شريعت کې تنګي نه ده فرمايلې، چې خلق حلال پرېږدي، او د حرامو په لوري وځغلي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) مه خورئ تاسې ! مالونه د یو بل په منځونو خپلو کې په ناروا سره ! مګر (خورئ یې) که وي دا (مالونه چې خورئ یې اموال د) تجارت (چې صادر وي) په خوښۍ سره له تاسو نه.

تفسیر: مطلب دا دی چې هیڅوا لره د هیڅا مال په ناحقه سره خوړل مثلا په رشوت، دروغ ویلو، ټګۍ او غلا کولو (یا په قمار یا په غصب، یا په ناحقه دعوی، یا په فاسدو عقودو او نورو) سره بیخي روا نه دي، هو ! که سوداګري یا بیع او شراء د جانبینو په خوښې سره وشي، نو په دې کې هیڅ حرج نشته، او له دې مال ځنې وخورئ !.

وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٢٩﴾

او مه وژنئ تاسې سره ځانونه خپل (یعنې یو بل، یا مه کوئ تاسې هغه کار چې ستاسې د هلاک سبب وي) بېشکه چې الله دی پر تاسې باندې ډېر مهربان.

تفسیر: یعنې په خپلو منځونو کې یو له بله سره مه وژنئ، بېشکه چې الله تعالی پر تاسې باندې ډېر مهربان دی، چې د بل چا په مال او ځان باندې له بې سببه تصرف کولو څخه یې منع فرمایلې ده، او تاسې ته یې داسې احکام درلیږلي دي، چې په هغو کې بیخي ستاسې ښېګڼه او خیر دی.

وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ عُدْوَانًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا ﴿٣٠﴾

او هر څوک چې وکړي دغه (تېر منهیات) په تېرېدلو سره له حقه او ظلم (تعدي) سره، نو ژر به مونږ داخل کړو دې اور (د دوزخ) ته، او دي دا (د دوزخ اور ته د دوی ننه ایستل) پر الله باندې ډېر آسان.

تفسیر: یعنې هر څوک چې له ظلمه او تیري څخه لاس نه اخلي، بلکه په ناحقه سره د نورو مالونه خوري، یا په ظلم سره بل څوک وژني، نو د ده د هستوګنې ځای دوزخ دی، او د هسې ظالمانو په اور کې اچول الله ته څه سختي نه لري، بلکه بیخي سهل او آسان دي، نو اوس دې څوک داسې ګمان نه کوي، چې مونږ خو مسلمانان یو، نو څرنګه به په دوزخ کې لویږو؟ الله تعالی مالک او مختار دی، او هیڅوک دې له عدل او انصاف ځنې نشي اړولی.

إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ مُدْخَلًا كَرِيمًا ﴿٣١﴾

که ځان وساتئ تاسې له لویو د (هغو) ګناهونو څخه چې منع کولی شئ تاسې له هغو نه؛ نو لرې به کړو مونږ له تاسې نه (صغیره) ګناهونه ستاسې، او ننه به باسو مونږ تاسې په ځای د ننوتلو ډېر ښه کې (چې جنت دی).

تفسیر: هغه څوک چې له کبیره وو ګناهونو څخه ځان وساتي، چې د هغو ذکر اوس تېر شو (لکه رشوت) د بل چا د مال غصب، سرقه، په ظلم سره د بل چا وژل، او نور) نو د هغه به ګرد صغیره معاصي بخښل کیږي.

په دې آیت کې څو خبرې بحث طلبي دي، مګر د ګردو اصل هم دا دی چې د دې آیت عمده او اصلي مطلب معلوم شي، تر څو په هغه سره د ګردو امورو پوهېدل آسان شي.

«معتزله» او د دوی نور ملګري په سرسري ډول سره د دې آیت په مضمون باندې داسې پوهیدلي دي: «که له کبیره وو ګناهونو ځنې ځان وژغوئ (وساتئ) یعنې یوه کبیره ګناه هم ونه کړئ، نو بیا که یواځې صغیره ګناه هر څومره وکړئ ! هغه به ضرور دربخښل کیږي، او که له صغائرو سره کبیره هم یوه یا دوه شاملې شي، نو بیا یې معافي ممکنه نه ده، بلکه د ګردو سزاوې خامخا در رسیږي».

«اهل سنت» وایي چې: «په دې دواړو صورتونو کې الله تعالی ته د معافی او مؤاخذې اختیار بیخي محقق دی»، نو په اول صورت کې د معافی لزوم او په بل صورت کې د مؤاخذې وجوب د معتزله وو بد فهمي او ناپوهي ده، او په دی آیت کریمه باندی دمعتزله و داستدلال په ځواب کې ځینی علماء داسې وایي: «د شرط له انتفاء ځنې د مشروط انتفاء کوم ضروري امر له سره نه دی».

ځینې داسې وایي چې: «د «کبائر» له دې لفظه چې په دې آیت کې مذکور دی، أکبر الکبائر یعنې خاص شرک مراد دی، او د کبائر د لفظ د جمعې راوړلو سبب د شرک د انواعو تعدد مراد دی».

مګر مونږ له هغو ټولو څخه تېریږو، او یواځې د همدې آیت داسې محققه او عمده معنی بیانوو چې د محققینو له ارشاد او قواعدو سره مطابقه وي، نو په غور یې واورئ:

دا خو ښکاره خبره ده چې د ﴿إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ﴾ الآیه ـ ارشاد چې دلته موجود دی، اود ﴿الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ﴾ ارشاد چې د (۲۷) جزء د «النجم» سورت په (۳۲) آیت (۱) رکوع کې موجود دی، د دواړو ارشاداتو مطلب یو شی دی، او یواځې په لفظونو کې یې لږ څه فرق سره شته، «عن ابن عباس رضي الله تعالى عنه قال: ما رأيت شيئا أشبه باللمم مما قال أبو هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم: إن الله كتب على ابن آدم حظه من الزنا، أدرك ذلك لا محالة، فزنى العين النظر، وزنى اللسان المنطق، والنفس تتمنى وتشتهي، والفرج يصدق ذلك و يكذبه. انتهى»، د پوهېدلو په شرط له دې حدیث څخه د دې دواړو پخوانیو آیتونو د واقعي او تحقیقي مطلب پوره پته ولګېده، مونږ د توضیح په غرض د ذکر شوي حدیث خلاصه لیکو، عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمایي چې: «د (لمم) لفظ چې په (النجم) کې راغلی او د هغه د معافی وعده شوې ده، د هغه د تعیین او تحقیق په نسبت مونږ د ابو هریره رضي الله تعالی عنـه د حدیث څخه بهتر کوم بل شی نه دی معلوم، چې خلاصه یې داده، چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلې دي: الله تعالی د بني آدم په ذمه باندې د زنا کومه برخه چې مقرره فرمایلې ده، هغه هرو مرو ده ته رسیدونکې ده، نو د زنا په فعل کې د سترګو برخه لیدل دي، او د ژبې برخه د هغو خبرو ویل دي چې د زنا د فعل مقدمات او اسباب پیدا کوي، او د نفس حصه دا ده چې د زنا تمنا او د هغه غوښتنه کوي، مګر د زنا د فعل تحقق او د هغه بطلان اصلا د فرجینو په عمل پورې موقوف دی، یعنې که د فرجینو ځنې د زنا صدور محقق شو، نو د سترګو، ژبې، او نفس او د نورو ګردو په زنا کې واقع کېدل محقق شول.

که د ټولو وسائلو د شتوالي سره د فرجینو فعل متحقق نشي، بلکه له «زنا» ځنې یې «توبه» او اجتناب په نصیب شي، نو اوس د زنا هغه ګرد وسائط د مغفرت لایق شول، یعنې کله چې د فرجینو زنا کول باطل شو، ګواکې د دوی ماهیت قلب شوی: د ګناه په ځای عبادت وګرځېد، مثلا یو سړی د غلا په نیت تر مسجد پورې ورسېده، مګر په مسجد او په عین موقع کې منتبه او ویښ شو، او له غلا یې توبه وایسته، او ګرده شپه یې د الله تعالی په عبادت کې تېره کړه، نو ښکاره ده هغه ورتګ چې د غلا وسیله په نظر راته؛ اوس همغه د توبې وسیله او د لمانځه سبب وګرځېد.

نو د ابو هریره رضي الله عنه د دې حدیث له اوربدلو څخه عبد الله بن عباس رضي الله عنه وپوهېد، چې «لمم» هغه خبرې دي چې په اصل کې لویه ګناه نه ده، مګر د ګناه د سبب کېدلو لامله ګناه ګرځي.

نو د آیت مطلب به داسې شي: هغه کسان چې له لویو او ښکاره وو ګناهونو ځنې ځانونه ژغوري (ساتي) خو (لمم) ورځنې صادریږي، مګر د لویې او اصلي ګناه له صدور څخه پخوا دوی له خپل قصور ځنې تائب او مجتنب کیږي، نو اوس لکه چې ابن عباس رضي الله عنه د ابو هریره رضي الله عنه د حدیث په اساس د (النجم) د سورت د آیت په مطلب باندې پوهېدلی دی؛ مونږ لره هم ښایي چې همغه معنی د ابن عباس رضي الله عنه له ارشاده سره سم د «النساء» د سورت د آیت په مطلب کې هم بې له تکلفه واخلو.

وروسته له هغه (الحمد لله) نه مونږ ته د دې خبرې ضروت پاتې کیږي چې د دې آیت په توضیح کې د صغیرې ګناه او د کبیرې ګناه مختلف تفسیرونه نقل کړو، او نه به راسره د معتزله وو د استدلال د ځواب ورکول څه فکر وي، د سیئاتو د تکفیر وجه او د جنت د دخول سبب آسان او له قواعدو سره سم په لاس راځي، او د اجتناب معنی هم ظاهریږي، او نورې ګردې وړې خبرې ان شاء الله تعالی په لږ تدبر سره حل کیږي.

د دواړو ذکر شویو آیتونو خلاصه د حدیث له ارشاد او د ابن عباس رضي الله تعالی عنه له بیان سره سم داسې شوه: «هغه کسان چې خپل ځانونه له هسې ګناهونو ځنې ژغوري (ساتي) او د هغو د ارتکاب ځنې خپل نفسونه ساتي؛ چې د ګناهونو په سلسله کې مقصود او لویه ګڼل کیږي؛ نو د هغه اجتناب او ژغورنې (ساتنې) په وجه سره د دوی هغه بد کار چې د کومې لویې ګناه د حصول په طمعه یې کړی وي؛ معافیږي، او د ﴿وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَىٰ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَىٰ﴾ لـه ارشاد سره سم دا کسان پـه جنت کې داخلیږي، ولې په واقع کې مطلقا صغائر په حسناتو سره بخښل کیږي، کما قال الله تعالی: ﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ﴾.

وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ

او ارمان مه کوئ تاسې د هغه شي چې غوره ګرځولی دی الله په هغه شي سره ځینې له تاسې پر ځینو نورو.

تفسیر: یعنې حق تعالی چې چاته پر بل چا په کوم صفت کې شرافت، فضیلت، اختصاص او امتیاز عنایت فرمایي، نو تاسې د هغه هوس او حرص مه کوئ !، چې د هغه دې نه وي، زما دې وي، ځکه دا هم ګواکې همغسې دی، چې د چا په خاص مال او ځان باندې له کوم سببه منګولې خښې کړئ ! چې د هغه حرمت اوس تېر شو، او هم له دې ځنې ستاسې په منځو کې حسد او بغض پیدا کیږي، او د الله تعالی له حکمت څخه هم مخالفت لازمیږي.

ځینو ښځو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې عرض وکړ چې: «څه سبب دی چې په هر ځای کې الله تعالی نارینه وو ته خطاب فرمایي، او هغوی باندې حکمونه کوي، او د ښځو ذکر نه کیږي، او په میراث کې نارینه ته دوه برخې ورکولی شي؟» په دې آیت کې د دغو ګردو پوښتنو ځواب ورکړ شوی دی.

لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبُوا ۖ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبْنَ ۚ وَاسْأَلُوا اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٣٢﴾

شته نارینه وو لره نصیب (برخه، مقرره) په سبب د هغه عمل چې کړی وي دوی، او شته ښځو لره نصیب (برخه مقرره) په سبب د هغه عمل چې کړی وي دوی، او سوال وکړئ تاسې له الله نه د فضل (او مهربانی) د ده، بېشکه چې الله دی پر هر شي ښه عالم (ډېر دانا).

تفسیر: یعنې هر یوه ته د هغه د عمل بدل پوره ورسیږي، او په هغه کې هیڅ قسم کمی نه کیږي، چې چا ته د شکایت موقع پاتې نه شي، هو ! خبره بله ده چې الله تعالی سم له خپل حکمت او رحمت سره چا ته چې خاصه لویي او فضیلت عنایت کړي، نو د هغه په نسبت حرص او شکایت کول بیځایه هوس دی.

هو ! که د خپل عمل په معاوضه نور زيات ثواب او انعام وغواړئ؛ دا بهتره او مناسبه ده، او هيڅ تاوان او خرابي په کې نشته، که څوک د فضل طالب وي، نو ده ته لازم دي، چې د عمل په وسيله دې د هغه طلب وکړي !، او د حسد او تمنا له پلوه دې د فضل طالب نشي ! او الله تعالى ته هر شي پوره معلوم دى، او د هر يو شي درجه او د هغه استحقاق ډېر ښه ورڅرګند (ورښکاره) دى، او له هر يوه سره د هغه د شان سره مناسبه معامله کوي، نو که چاته الله جل جلاله فضيلت ور په برخه کوي، دا عطا يې بيخي د علم او حکمت سره سمه ده، او هيڅا ته نه ښايي چې د خپلې ناپوهۍ له امله د هغه په نسبت څه اندښنه وکړي.

وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْأَقْرَبُونَ ۚ وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴿٣٣﴾

او لپاره د هر يوه (له نارينه وو او ښځو) ګرځولي دي مونږ وارثان (چې واخلي خپلې برخې) له هغه (ماله) چې پرېښې وي مور او پلار او نورو اقاربو (خپلوانو، نو مه يې ورکوئ پردیو ته) او هغه کسان چې غوټه شوي دي قسمونه ستاسې (په دوستۍ د دوی) نو ورکړئ نصيب (برخه) د دوی بېشکه چې الله دى پر هر شي باندې ښه خبردار.

تفسير: اى مسلمانانو ! مونږ ستاسې د هر يوه لپاره: نارينه وي که ښځه، له هغه مال ځنې چې مور او پلار او خپلوانو پرېښې دى؛ وارثان ګرځولي دي، او هيڅوک ورځنې بې برخې ګرځول شوي نه دي، او له هغو خلقو سره چې ستاسې معاهده شوې ده، هغوى ته برخې يې خامخا ورورسوئ ! الله تعالى ته ښه معلومه ده، چې وارثانو ته څومره برخې ورکړى شي؟ او هغو ته چې معاهده ورسره شوې ده، څه ورکړى شي؟ او ځمونږ دا احکام څوک عملي کوي؟ او څوک ترې غاړه غړوي؟

فائده: ډېرو خلقو ځان ځانته په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې ايمان راوړى وو، او کورنۍ او نور خپلوان يې همغسې کافران پاتې شوي وو، نو په دې وخت کې رسول الله مبارک دوه دوه مسلمانان سره ورونه او ملګري کړل، او هم دوى دواړه به يو د بل وارث کېدل، کله چې د دوى خپلوان هم مسلمانان شول، نو دا آيت نازل شو چې ميراث د اقرباوو او خپلوانو حق دى، پاتې شول هغه ايماني ورونه نو هغوى ته ميراث نه ور رسيږي.

هو ! په ژوندانه کې له هغوى سره ښه سلوک لازم دي، او که د مرګ په وخت کې هغوى ته څه وصيت وکړئ، ښه او مناسب دى، مګر په ميراث کې دوى هيڅ برخه نه لري.

اَلرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ ۚ

سړي حاکمان (مقرر شوي) دي پر ښځو باندې په سبب د دې چې فضيلت ورکړى دى الله ځينې د دوى ته پر ځينو نورو باندې، او په سبب د دې چې نفقه (لګښت) کوي دوى (پر دغو ښځو) له مالونو خپلو.

تفسير: په دې آيت کې د نارينه او د ښځې درجې راښيي چې د نارينه درجه د ښځې له درجې څخه لوړه ده، د درجو د فرق لامله کوم فرق چې په احکامو کې وي، هغه بيخي له حکمت سره سم او د رعايت کولو وړ دى، ښځه او نارينه د حکمت له قاعدې سره سم له سره برابر ېدى نه شي، د ښځو دا غوښتنه بيخي بېځايه ده، خلاصه دا چې الله تعالى نارينه پر ښځو باندې په دوه وو وجهو سره حاکم او د حال کتونکى ګرځولى دى:

(۱): لویه او موهوبه وجه داده چې: الله تعالی په اصل کې ځینو ته پر ځینو نورو یعنې نارینه وو ته پر ښځو باندې په علم او عمل سره (چې دا دواړه د ګردو کمالاتو مدار دي) فضیلت عطا فرمایلې دی، چې د هغو تشریح په احادیثو کې شته، (یعنې په عقل، علم، صبر، حلم، پوهې، عصوبت، سهم، اذان، اقامت، جمع، جماعت، امامت، جمعه، خطبه، اعیاد، عزت، شرافت، امارت، خلافت، نبوت، وحي، قوت، جهاد، عطا، سخا، حزم، عزم، او نورو سره الله تعالی نارینه ته پر ښځو باندې فضیلت او لویي ور عطا کړېده).

(۲): کسبي وجه دا ده چې نارینه پر ښځو باندې خپل مال صرفوي، او د مهر، خوړو کالیو او د نورو ضروریاتو تکفل کوي، مطلب دا دی چې ښځو لره ښایي چې د نارینه حکمونه ومني.

فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ ؕ

نو نیکې ښځې هغه دي چې، حکم منونکې دي (د مېړونو خپلو) ساتونکي دي په غیاب د مېړونو (خپلو کې د ځانونو خپلو او د خپلو مېړونو د کورونو، مالونو، او اولادونو) په سبب د هغه چې ساتلي دي الله (دوی ته له حقوقو پر مېړونو).

تفسیر: یعنې هغه ښځې چې نېکې دي، دوی د خپلو مېړونو اطاعت کوي، او سم د الله تعالی له حکمه د خپل مېړه په غیاب کې د هغه په خوښې او رضا خپل ځان، او د مېړه د مال او اولاد حفاظت کوي، او پخپل ځان او د مېړه په مال او اولاد او نورو کې هیڅ ډول خیانت نه کوي.

وَالّٰتِيْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ ۚ

او هغه ښځې چې ویرېږئ تاسې له سرکشۍ (بد ګزرانۍ) د دوی نه، نو نصیحت وکړئ دوی ته، او پرېږدئ تاسې دوی په ځای د خوب کې (که په نصیحت سمې نه شوې) او ووهئ تاسې دوی (که په بېلتون هم سمې نه شوې).

تفسیر: یعنې که کومه ښځه له خپل مېړه سره بد ګزراني وکړي، نو ښایي (چې مېړه دې دغه ښځه د ځېښتنانو په حقونو او تعظیم) په ژبه وپوهوي، چې نور دې هسې نه کوي، که یې ونه منله، نو بیا دې په همغه خونه (کور) کې په ګوښې (یوائې) بستره کې پرېږدي، او که په دې هم سمه نه شوه، نو داسې دې ووهي، چې د دې په وجود کې د وهلو اثر پیدا نشي، یا یې هډوکي مات نشي، د هر تقصیر لپاره یوه درجه وي، نو سم له هغې سره د هغې د تأدیب او تنبیه اجازه شته، چې دهغې درې درجې په ترتیب سره په آیت کې مذکوري دي، وهل وروستنۍ درجه ده، په معمولي او سرسري قصور باندې دې نه وهي، هو ! که قصور یې زیات وي، نو بیا یې په وهلو کې هیڅ حرج نشته، او څومره چې مناسب وګڼي هغومره دې ووهي، مګر د دې خبرې لحاظ په کار دی، چې هډوکي یې مات نشي، او داسې یو پرهار ورته ونه رسېږي، چې د هغه اثر باقي پاتې شي.

فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيْرًا ﴿۳۴﴾

نو که اطاعت یې وکړ (غاړه یې کېښوده) تاسو ته نو مه لټوئ تاسې پر دوی باندې لاره (د ضرر او اذیت) بېشکه الله دی ډېر پورته، ډېر لوی (له ټولو اشیاوو).

تفسیر: یعنې که هغه ښځې ستاسې په نصیحت یا بېلتون (جدایۍ) یا تأدیب یا وهلو سمې شوې، او له نافرمانۍ ځنې یې لاس واخیست، نو تاسې هم لاس ترې واخلئ، او خامخا د دوی په پرکولو پسې مه ګرځئ ! او له الله څخه وویرېږئ !

بېشکه الله جل جلاله پر تاسې ټولو غالب او په ګردو باندې حاکم دی، مه د ښځو په معاملو کې هرو مرو له بد ګمانۍ ځنې کار اخلئ ! او مه په لږ قصور باندې دوی ته سخته سزا ورکوئ ! بلکه د هر قصور لپاره یو حد او اندازه ده، او د ښځو په تأدیب کې وهل وروستنۍ درجه لري.

وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا

او که وویرېږئ تاسې له مخالفت څخه په منځ د مېړه او ښځې کې؛ نو ور ولېږئ (مقرر کړئ تاسې) یو منصف له خپلوانو د دې سړي او بل منصف له خپلوانو د دې ښځې نه.

تفسیر: یعنې ای مسلمانانو ! که تاسې ته اندېښنه وي چې په مېړه (خاوند) او ښځې کې ضد او مخالفت دی، او دوی پخپله جګړه نشي پرېکولی، نو تاسې ته ښایي چې یو منصف د مېړه له خپلوانو نه، او یو منصف د ښځې له خپلوانو څخه مقرر کړئ !او د فیصلې لپاره یې زوجینو ته ولېږئ ! ځکه چې اقاربو ته به د دوی نور حالات هم معلوم وي، او له دوی ځنې د خیر غوښتلو امید هم ډېر کاوه شي، دا دواړه منصفان به د حالاتو تحقیقات کوي، او د هر چا چې هومره قصور وي؛ هغه به پوهوي، او د دوی په منځ کې به د موافقت فضا پیدا کوي.

إِن يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا ﴿٣٥﴾

که اراده لري دغه (زوجین یا حکمین) د اصلاح (او جوړښت) نو موافقت به پیدا کړي الله د دغو (زوجینو) په منځ کې، بېشکه الله دی ښه عالم (د زوجینو په مصالحو هم) ښه خبردار (د حکمینو په مقاصدو هم).

تفسیر: یعنې که دواړه منصفان د زوجینو په منځ کې د اصلاح قصد کوي، نو الله جل جلاله د دوی د ښه نیت او کوښښ لامله د زوجینو په منځ کې موافقت پیدا کوي، بېشکه چې الله تعالی ته د ګردو شیانو علم شته، د نزاع د لرې کولو او د اتفاق د حصول اسباب او کیفیات ګرد هغه ته ښه معلوم دي، نو ځکه د زوجینو د نزاع په لرې کېدو به هیڅ سختي نه پېښېږي ان شاء الله تعالی.

وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا

او عبادت کوئ تاسې د الله ! او مه شریکوئ تاسې له ده سره هیڅ شی !

تفسیر: په الله تعالی باندې ایمان ولرئ، او د آخرت د ثواب په امید یې عبادت او بندګی وکړئ، فخر (ویاړ) او ریاء او ښودنې سره مال ورکول هم شرک دی، مګر په لږه درجه.

وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا ﴿٣٦﴾

او (نیکي کوئ) له مور او پلار سره په نیکي کولو او (نیکي کوئ !) له خپلوانو سره، او (نیکي کوئ !) یتیمانو سره او (نیکي کوئ !) له مسکینانو سره، او (نیکي کوئ !) له همسایه ګانو سره چې قریب وي (په نسب یا په همسایګۍ کې)، او (نیکي کوئ !) له همسایه سره چې بعید وي

(په نسب يا په همسايګي کې) او (نيکي کوئ !) له هغه ملګري سره چې په څنګ کې و ي او (نيکي کوئ !) له مسافر سره، او (نيکي کوئ !) له هغو (وينځو، مريو) سره چې مالکان وي (ور لره) ښې لاسونه ستاسې، بېشکه چې الله محبت نه کوي هغه چا سره چې وي کبر کوونکی، ډير فخر کوونکی.

تفسير: د يتيمانو، ښځو، وارثانو، او زوجينو حقوق او له دوی سره حسن معامله يې بيان کړه، اوس داسې ارشاد فرمايي چې: د هر يوه حق د هغوی د مرتبو په اندازه او د خپلوی او احتياج په تناسب ادا کړئ !، له ځکه دو څخه پخوا د الله تعالی حق دی، بيا د مور او پلار، بيا درجه په درجه د نورو خپلوانو او حاجتمندانو.

قريب او غير قريب همسايه (ګاونډي) څخه به نسبي يا مکاني قرب او بعد مقصود وي، په نسبي قرب کې دا مطلب دی، چې د خپلوانو همسايه حق له پردي همسايه څخه زيات دی، او په مکاني قرب کې به دا مدعا وي چې: د نږدې همسايه حق د لرې همسايه له حق څخه زيات دی، يعنې چې په لرې فاصله کې اوسيږي.

په ﴿وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ﴾ کې د سفر، حضر، او د کاروبار رفيقان اوشريکان او د يوه بادار (آقا) دوه نوکران او د يوه استاذ دوه شاګردان، دوست، شاګرد، او نور ټول داخل دي، په مسافرئ کې مېلمه او غير مېلمه دواړه راغلل، او مملوک برسېره پر مريې او وينځې نورو حيواناتو ته هم شامل دی.

په آخر کې يې وفرمايل: د هغو په مزاج کې چې تکبر (لويي) خودپسندي وي، هغه بل هيڅوک له خپل ځان سره برابر نه ګڼي، او په خپل مال باندې مغرور، او په عيش کې مشغول وي، نو هسې کسان چې دا حقوق نه اداء کوي، له دوی ځنې احتراز وکړئ، او ځانونه ترې وژغورئ (بچ کړئ !).

إِلَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَيَكْتُمُونَ مَآ ءَاتَىٰهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۗ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿٣٧﴾

هغه کسان چې بخيلي کوي دوی او امر کوي (نورو) خلقو ته (هم) په بخيلي (شومتيا) سره، او پټوي دوی هغه شی چې ورکړی دی دوی ته الله له مهربانی خپلې، او تيار کړی دی مونږ کافرانو ته عذاب سپکوونکی.

تفسير: يعنې الله تعالی هغه متکبر سړی نه خوښوي، چې بخيلي کوي او خپل مال او دالله جل جلاله ورکړی علم له خلقو ځنې پټوي، او هيڅا ته نفع نه رسوي، او په قول او عمل سره نورو ته هم د بخيلی ترغيب ورکوي، او د دې کافرانو لپاره مونږ د ذلت عذاب تيار کړی دی.

فائده: دا آيت د يهودانو په حق کې نازل شوی دی، چې د في سبيل الله د خرڅ په صرفولو کې يې هم پخپله بخيلي کوله، او هم به يې مسلمانان ترې منع کول، او د محمد صلی الله عليه وسلم اوصاف او د اسلام د حقانيت هغه آيتونه يې چې په «تورات» کې موجود وو؛ پټول، نو مسلمانانو لره له دې نه احتراز او ځان ساتنه پکار ده.

وَٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۗ وَمَن يَكُنِ ٱلشَّيْطَٰنُ لَهُۥ قَرِينًا فَسَآءَ قَرِينًا ﴿٣٨﴾

او هغه کسان چې صرفوي دوی مالونه خپل لپاره د ښودنې خلقو ته، او نه لري ايمان په الله باندې، او نه په ورځې آخرې (د قيامت) باندې، او هر څوک چې وي شيطان د ده ملګری؛ نو بد ملګری دی (دا شيطان).

تفسير: او دا متكبران هغه كسان دي؛ چې خپل مالونه نورو خلقو ته د ځان د ښوولو لپاره صرفوي، يعنې د الله تعالى لپاره له صرفولو څخه دې پخپله هم بخيلي كوي، او نورو ته هم د بخيلۍ ترغيب وركوي، ليكن خلقو ته د ځان وربښوولو لپاره خپل مالونه صرفوي، دوى نه پر الله جل جلاله باندې ايمان لري، او نه په قيامت باندې باور لري؛ چې د حق تعالى د رضا حصول او د اخروي ثواب تحصيل د دوى مقصود وي، او د الله تعالى په دربار كې خوښ او مقبول كار دا دى، چې دا مال هغه حقدارانو ته وركړ شي، چې د هغوى ذكر وشو، او په وركولو كې يې د الله تعالى خوښي او د آخرت د ثواب توقع وي.

له دې ځنې ښكاره شوه چې د الله تعالى په لاره كې همغسې چې بخل كول خراب كار دى، هم داسې رياكاري او د خلقو د ښوولو لپاره مال لګول هم خراب كار دى، او داسې كار همغه كسان كوي، چې د دوى رفيق شيطان وي، چې دوى پر هسې كارونو لمسوي، او تياروي يې.

وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيْمًا ﴿۳۹﴾

او څه نقصان به وو په دې كفارو (باندې) كه ايمان راوړى واى دوى په الله او ورځې آخرې (د قيامت) باندې، او صرف كړى واى دوى ځينې د هغه شي چې وركړى دى دوى لره الله، او دى الله په (ټولو اعمالو د) دوى باندې (هم) ښه عالم.

تفسير: يعنې د كافرانو په دې كې هيڅ نقصان نه وو كه دوى د كفر په ځاى پر الله تعالى او د قيامت په ورځ باندې ايمان راوړى واى، او د بخل او ريا په ځاى يې د الله تعالى په لاره كې خپل مال صرفولى، بلكه بيخي د دوى نفع وه، ضرر او زيان خو په دې كې دى چې دوى يې اوس غوره كوي، او الله تعالى ته معلوم دي چې دوى يې په څه؟ او په كوم نيت كوي؟ د همغه عوض به هغوى ته وركاوه شي.

په پخواني آيت ﴿وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ﴾ كې د مال نسبت د هغوى په لوري شوى وو، اوس د ﴿وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ﴾ په فرمايلو كې داسې يوه لطيفه اشاره ده، چې هغو كسانو دغه مال د خپل ځان بللى، په هر څه يې چې زړه غواړي لګوي يې، دوى ته دا مناسب وو، چې هغه مال يې د الله تعالى مال ګڼلى، او همغه لاره كې يې لګولى چې الله جل جلاله له حكمه سره سم واى.

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۚ وَاِنْ تَكُ حَسَنَةً يُّضٰعِفْهَا وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۴۰﴾

بېشكه چې الله نه كوي ظلم په اندازې د يوې ذرې، او كه وي دا (ذره) نيكي (نو) دوه چنده به كړي هغه (نيكي) او ور به كړي (محسن ته الله) له نزده خپله ثواب ډېر.

تفسير: يعني الله تعالى د هيڅا حق د يوې ذرې په اندازه هم نه ضايع كوي، نو په دې كافرانو باندې چې عذاب مسلط كيږي؛ عين انصاف دى، او د دوى د بد عملۍ بدل دى، او كه د يوې ذرې په اندازه څوك نيكي ولري نو «اضعافا مضاعفه ـ څو چنده» به د هغه اجر مومي، او پاك الله به له خپل لوري عظيم ثواب د انعام په طور هم ور عنايت كوي.

فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ ۢ بِشَهِيْدٍ وَّجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ شَهِيْدًا ﴿۴۱﴾

نو څرنګه (حال) به وي په هغه وخت كې چې راولو مونږ له هر يوه (پخواني) امت څخه يو شاهد (د دوى له انبياوو څخه) او راولو مونږ تا (اى محمده !) پر دغه (محمدي امت باندې) شاهد (احوال ويونكى).

تفسير: يعني د دې کافرانو به څرنګه بد حال وي، کله چې مونږ له هر امت او هر قوم څخه هسې شاهدان راولو چې د دوی د حالاتو بيان کوونکی او د دوی د واقعي معاملاتو ظاهر کوونکی دی.

له دې نه مراد د هر امت نبي او د هر عهد صالح او معتبر خلق دي، چې دوی به د قيامت په ورځ کې د نافرمانی او د فرمان منونکو فرمان منل بيانوي، او په ګردو حالاتو باندې به شاهدي لولي، نو ای محمده ! صلی الله عليه وسلم تا به هم پر دوی يعنې ستاسې پر امت لکه د نورو انبياوو عليهم السلام په شان احوال ښوونکی او شاهدي لوستونکی درروو.

او داسې احتمال هم لري چې د «هؤلاء» اشاره د پخوانيو انبياوو عليهم السلام يا د پورته ذکر شويو کافرانو په لوري وي.

که انبياء عليهم السلام مراد شي؛ نو د هغوی پر صداقت باندې هغه وخت شاهدي لولي چې د دوی امتيان د دوی تکذيب کوي.

که کفار ترې مطلب شي نو مدعا به يې داسې کيږي: همغسې چې پخواني انبياء عليهم السلام د خپلو امتونو د کفارو او د فساقو په فسق باندې شاهدي لولي، ته به هم ای محمده ! صلی الله عليه وسلم د هغوی پر بد عملی باندې شاهد کيږې، چې له دې شهادت څخه به د دوی خرابي او بدي لا ښه محققه کيږي.

يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَعَصَوُا الرَّسُولَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْأَرْضُ ۚ وَلَا يَكْتُمُونَ اللَّهَ حَدِيثًا ﴿٤٢﴾

په دغه ورځ کې به آرزو کوي هغه کسان چې کافران شوي وو او نافرماني يې کړې وه له رسوله، دا چې کاش که همواره کړی شوي وای پر دوی باندې ځمکه، او نه به پټوي دوی له الله څخه هيڅ خبره.

تفسير: يعني په همغه ورځ کې چې له هر امت ځنې به د دوی د حالاتو بيان کوونکي وبللی شي، نو کافران او نافرمانان به داسې تمنا کوي، چې کاشکې مونږ له ځمکې سره برابر او په خاورو کې ګډ او بيخي فنا وای، او نن پيدا نه وای، چې له مونږ سره حساب او کتاب نه کېدی !، دا خلق به هيڅ يوه خبره له الله تعالی ځنې نشي پټولی، او د ذرې ذرې حساب به له دوی ځنې اخيستل کيږي.

په آخر کې بيا مسلمانانو ته صريح خطاب فرمايي او مخصوصا د لمانځه په نسبت چې: «له ګردو عباداتو ځنې اولی، اعلی، او افضل دی، او په شريعت کې چې هومره د هغه اهتمام شوی، او د هغه ارکان، شرايط، آداب او نور مفصل ښودلی شوي دي، د نورو عباداتو په دې اندازه سره اهتمام نه دی شوی» نو دلمانځه په اړه يې د دوه وو خبرو تاکيد فرمايلی دی، چې د لمانځه د متعلقه امورو جسم او روح دی، او پر نفس باندې ډېر اهم او شاق او درانه ښکاري:

(۱): دا چې د نشې په حالت کې لمانځه ته مه نږدې کيږئ ! تر څو د هغو الفاظو په معانيو ښه وپوهيږئ چې ستاسې له خولو ځنې وځي.

(۲): د جنابت په حال کې هم له لمانځه ځنې لرې اوسئ ! تر هغه پورې چې ولامبئ ! او خپل ځانونه په غسل سره ښه پاک کړئ ! ځکه چې په لمانځه کې دوه امره مهتم بالشأن دي، چې يو يې حضور او خشوع دی، او بل يې طهارت، نظافت، او د لمانځه د متعلقه وو امورو په منځ کې هم دا دوه امره پر نفس اهم او درانده هم دي،

نشه له خشوع او حضور څخه مخالف دی، او جنابت له طهارت او نظافت سره منافی دی، ددې خاص تاکید او تقیید د ارشاد له فرمایلو څنې دوه نفعې هم معلومیږي:

(اول): څرنګه چې د پاسنیو ډېرو ذکر شویو احکامو ادا (لکه حقوق، معاملات، بدني او مالي عبادات) او له بخل، ریاء، تکبر څنې ځان ژغورل (ساتل) پر نفس باندې سخت دي، نو د دې سختۍ علاج راښیي، یعنې که لمونځونه د هغو له ظاهري او باطني شرائطوا او آدابو سره سم اداء کړئ، نو د دې پاسنیو ګردو اوامرو او عباداتو کې سهولت او رغبت او له ګردو منهیاتو او معاصیو څنې نفرت پیدا کیږي.

(دویم): هر هغه څوک چې د لمانځه په کولو کې اهتمام او د هغه التزام کوي؛ هغه ته به د نورو مالي او بدني احکامو په تعمیل کې هم آساني ورپېښیږي، او هر هغه څوک چې په نورو احکامو کې بې پروایي کوي؛ له هغه څخه د لمانځه په کولو کې هم قصور بعید نه دی، والله أعلم.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡرَبُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمۡ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعۡلَمُواْ مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ حَتَّىٰ تَغۡتَسِلُواْ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) مه نږدې کیږئ تاسې لمانځه ته حال دا چې تاسې مست یئ (له نشې) تر هغه پورې چې پوه شئ تاسې پر هغه شي چې (یې) وایئ تاسې، او نه په داسې حال کې چې تاسې جنب اوسئ، مګر په هغه حال کې چې اوسئ تېرودونکي د لارې (نو لمانځه ته مه نږدی کیږئ) تر هغه پورې چې تاسې غسل وکړئ.

تفسیر: د کفارو او د کتابیانو دوه عیبونه په خاص ډول سره ذکر شول:

(۱): په الله تعالی باندې ایمان نه راوړل.

(۲): خپل مال د الله تعالی په لار کې نه لګول، بلکه خلقو ته د ځان ورښوولو او د خپل عزت او پت څرګندولو لپاره یې لګاوه، او ښکاره ده چې د لومړنۍ خرابۍ او عیب منشأ، خو د علم نقصان او د جهل غلبه ده، او د وروستۍ خرابۍ علت او سبب هوا، هوس، او ځان خوښی ده، چې له هغې څخه دا راښکاره شوه چې د ګمراهۍ سببونه دوه دي:

(اول): جهل چې په هغه کې د حق او باطل تمیز بیخي نشي کېدی.

(۲) نفسي غوښتنه او شهوت، چې د هغو لامله د حق او باطل له تمیزه سره؛ له حق سره سم عمل نشي کولی، ځکه چې له شهوت سره ملکي صفات ضعیف او بهیمي قواوې قوي کیږي.

وَإِن كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٞ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا طَيِّبٗا فَٱمۡسَحُواْ بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُمۡ

او که وئ تاسې مریضان (رنځوران) یا په سفر باندې (په حالت د بې اودسۍ یا جنابت کې) یا راشي یو له تاسې له بیدیا (له بولو) نه، یا جماع وکړئ تاسې ښځو سره نو ونه مومئ تاسې اوبه (یا یې نشئ استعمالولی) نو اراده وکړئ تاسې مخ د ځمکې (خاورې) پاکې ته، نو مسحه وکړئ تاسې په مخونو خپلو او په (دواړو) لاسو خپلو (تر څنګلو پورې).

تفسير: يعني دجنابت په حالت کې دې لمونځ نه کوي، بلکه وروسته له غسل او لمبلو څخه دې ادا کړ شي !، دا حکم هلته دی چې کوم عذر نه وي، که يو داسې عذر پېښ شي، چې د اوبو استعمال د هغه لامله ممکن نه وي، او ترې معذور شي، او د طهارت حصول ضروري وي، نو په داسې وخت کې تيمم وهل کافي دي، د اوبو د استعمال معذوريت درې صورتونه لري:

(۱): ناروغي چې د اوبو استعمال ورته ضرر پېښوي.

(۲): چې په سفر کې وي، او دومره اوبه ورسره وي، چې يواځې خپله ګزاره پرې کولی شي، او که اودس پرې وکړي، تنده به ورته ضرر ورسوي، او نورې اوبه له ده ځنې لري وي.

(۳): دا چې اوبه بيخي موجودې نه وي، د اوبو د نشتوالي په تقدير يې د طهارت د ضرورت دوه صورته ښودلي دي:

(اول): له بولو او غائطو څخه وروسته د اوداسه د ضرورت په وخت کې.

(دويم): له مجامعت ځنې وروسته د غسل او د لمبلو ضرروت په وخت کې.

فائده: د تيمم صورت دا دی چې پاکه ځمکه باندې دې دواړه لاسونه ووهي !، بيا دې پر خپل ټول مخ او لاسونو باندې په ښه ډول سره مسحه کړي ! خاوره طاهره ده، او د ځينو شيانو لپاره د اوبو په شان پاکوونکې هم ده، مثلا: موزه، بوټ، ماسې، چاړه، هنداره او نور.

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿۴۳﴾

بېشکه الله دی ښه عفو کوونکی (چې داسې سختي يې را آسانه کړه) ښه مغفرت کوونکی (د تقصيراتو).

تفسير: يعني الله تعالى د ضرورت په وخت کې د تيمم اجازه راکړې ده، او خاوره يې د اوبو قائم مقام درولې ده، ځکه چې هغه سهولت او معافي ورکوونکی او د بندګانو د خطاوو معافوونکی ذات دی، او د خپلو بندګانو نفع او هوسايي (آساني) خوښوي، چې له دې ځنې دا هم ښکاره شوه، چې په لمانځه کې د نشې په حالت کې چې د يوه شي په ځای بل شی لوستلی شوی وو، هغه يې هم معاف کړی دی.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَابِ يَشْتَرُونَ الضَّلَالَةَ وَيُرِيدُونَ أَن تَضِلُّوا السَّبِيلَ ﴿۴۴﴾
وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِأَعْدَائِكُمْ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَلِيًّا ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ نَصِيرًا ﴿۴۵﴾

آيا نه دي کتلي تا (نه يې خبر له حاله د) هغو کسانو چې ورکړی شوی ده دوی ته څه برخه له کتابه، چې پيري (اخلي) دوی ضلالت (ګمراهي په عوض د هدايت کې)، او اراده لري دوی د دې: چې ورکه کړئ تاسې (هم) لاره (د حق)، او الله ښه عالم دی په دښمنانو ستاسې (هم، نو خبروي مو پرې چې ترې په څنګ شئ !) او کافي (بس) دی الله ولي (دوست حمايت کوونکی ستاسې) او کافي (بس) دی الله مددګار (ستاسې).

تفسير: يهودانو ته له کتاب ځنې څه برخه ورکړی شوې ده، يعني د هغه د الفاظو د لوستلو برخه ورکړی شوې ده، او د عمل کولو برخه چې اصلي مقصود ده، نه ده ورکړی شوې، او ګمراهي اخلي يعني د (آخر الزمان نبي صلى الله عليه وسلم) له حالاتو او اوصافو ځنې به يې د دنيايي عزت او رشوت لامله خلق نه خبرول، او پټول يې، او عمدا

به يې تري انکار کاوه، او غوښتل يې چې مسلمانان هم له دين څنې واړوي؛ چې ګمراهان شي، او الله تعالى تاسې ته ارشاد فرمايي چې اى مسلمانانو ! ستاسې دښمنان داسې ښه معلوم دي، چې تاسې ته نه دي معلوم، نو د الله تعالى په دې ارشاد باندې اطمينان ولرئ ! او له دوى نه مو خپل ځانونه وژغورئ (محفوظ کړئ !) الله تعالى تاسې ته د نفعې رسولو او د زيان څخه د ساتلو لپاره کافي دى، نو ځکه له دښمنانو څنې هيڅ ډول اندېښنې مه کوئ ! او په دين باندې قائم اوسئ !.

مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَّرَاعِنَا لَيًّا بِاَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِى الدِّيْنِ ؕ

څينې له هغو کسانو چې يهودان شوي دي اړوي دوى خبرې (د شريعت او محمدي اوصاف) له ځايو د دې (خبرو) څخه او وايي دغه (يهودان) واورېدله مونږ (وينا ستا) سر غړونه مو وکړه د (حکم ستا)، او (وايي يهودان)واوره (ته) په داسې حال کې چې نه يې اورولى شوى، او (وايي يهودان لفظ د) «راعنا» په تاوولو د ژبو خپلو، او په عيب ويلو سره په دين کې.

تفسير: په يهودانو کې داسې خلق هم دى، چې هغه «تورات» چې د الله تعالى له خوا نازل شوى دى؛ له خپله ځايه اړوي، يعني لفظي او معنوي تحريفونه په کې کوي، (﴿وَيَقُوْلُوْنَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا﴾ او وايي وامو ورېده سر غړونه کوو)، يعنې کله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يهودانو ته کوم حکم اوراوه، نو دوى به په ځواب کې وويل: وامو ورېده ! يعنې ومو منلو، خو ورو به يې وويل چې: مونږ نه دى منلى، يعنې يواځې مونږ په غوږ اورېدلى دى، او په زړه مو هغه نه دى منلى.

(﴿وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ﴾ او وايي يهودان: واوره په داسې حال کې چې نه يې اورولى شوى) يعنې کله چې يهودان له محمد صلى الله عليه وسلم سره مخاطبه کوي، نو وايي: «واوره ! دروا دې نه اورول شي !» يعنې داسې خبرې کوي، چې دوه معناګاني لري، که د يوې معنى په اعتبار دعا يا تعظيم وي، نو د بلې معنى په لحاظ ښېرا او تحقير هم کېدى شي، لکه چې دا خبره په ظاهره کې د خير دعا ده، مطلب دا چې: «ته تل غالب او معزز اوسې، هيڅکله دې تاته کومه بده او مخالفه خبره وانه اورولى شي !»، او په زړو کې به يې هسې نيت کاوه چې ته کوڼ شې ! (العياذ بالله).

(﴿وَرَاعِنَا﴾ او وايي لفظ «راعنا» يعنې کله چې يهودان د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې راتلل، نو «راعنا» به يې هم ويل، چې د هغه معناوې هم دوه دي، يوه ښه او بله خرابه، چې د هغه بيان په اول جزء د البقره سورت په (۱۰۴) آيت (۱۳) رکوع کې شوى دى.

ښه معنى يې داده چې: «ته ځمونږ رعايت وکړه ! او د شفقت نظر پر مونږ وفرمايه ! چې ستا پر مطلب باندې ښه وپوهيږو، او د څه شي پوښتنه کول چې غواړو د هغه پوښتنه وکړى شو.

او بده معنى يې داده چې د يهوديانو په ژبه دا د تحقير کلمه وه، يا به يې په ژوولې سره «راعينا» ويل، چې د هغه معنى «ځمونږ شپون» دى، او دا د هغوى شرارت وو، ځکه چې هغوى ډېر ښه پوهېدل چې موسى عليه السلام او نورو انبياوو عليهم السلام هم پسونه څړ ته بيولې وو.

(﴿لَيًّا بِاَلْسِنَتِهِمْ﴾ په تاوولو د ژبو خپلو...) يعنې يهودانو به دا کلمې پخپلو خبرو کې سره ګډولې، او په داسې يو ډول سره به يې ويلې، چې د اوريدونکي فکر به يې ښې معنى ته اړاوه، او د هغو بدې معنى ته به له سره د چا ذهن نه منتقل کېده، او پخپلو زړونو کې به يې همغه خرابه معنى قصدوله، او بيا به يې پر ده باندې داسې عيب لګاوه، چې که دا سړى په رښتيا سره نبي واى؛ نو ځمونږ په دې فرېب به هرو مرو (خامخا) پوهېده، نو الله تعالى د دوى دا فريبونه مسلمانانو ته په ښه ډول سره څرګند کړل.

وَلَوْ اَنَّهُمْ قَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَقْوَمَ ۙ وَلٰكِنْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۴۶﴾

او که بېشکه دوی ویلي وای: واورېده مونږ (وینا ستا) او ومانه (حکم ستا په بدل د «عصینا» کې) او (که دوی ویلي وای) واوره (بې له «غیر مسمع») او نظر لره پر مونږ (په بدل د «راعنا» کې) نو خامخا به خیر وو دوی ته، او ډېره سمه (وینا)، ولیکن لري کړي دي دوی الله (له خپله رحمته) په سبب د کفر د دوی، پس نه راوړي ایمان (له دغو یهودانو) مګر لږ خلق.

تفسیر: حق تعالی د یهودانو د دغو دریو مذمومو اقوالو له بیان کولو څخه وروسته اوس د ملامتیا او د هدایت په ډول ارشاد فرمایي: چې که یهودانو د ﴿وَعَصَيْنَا﴾ په ځای ﴿وَاَطَعْنَا﴾ او د ﴿وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ﴾ په عوض یې یواځې ﴿وَاسْمَعْ﴾ او د ﴿وَرَاعِنَا﴾ په ځای ﴿وَانْظُرْنَا﴾ ویلی؛ نو دا به د دوی په حق کې بهتر وو، او دا خبره به په ځای او سمه وه، او هسې بېهودګی او شرارت ته به ځای نه وو پاتې، چې له پاسنیو کلماتو څخه یهودان په خپلو زړونو کې بدې معناګانې اخیستلې، لیکن څرنګه چې الله تعالی دوی د خپل کفر په سبب له خپل رحمت او هدایت څخه بې برخې ګرځولي دي، نو ځکه دوی په سمه لاره باندې نه راځي، او په ګټورو خبرو باندې نه پوهیږي، او ایمان نه راوړي، مګر لږ خلق دي چې له دغو شرارتونو او خباثتونو څخه په څنګ او د الله جل جلاله له لعنت څنې محفوظ پاتې دي، لکه (عبد الله بن سلام) او د هغه نور ملګري رضي الله تعالی عنهم.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اٰمِنُوْا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّطْمِسَ وُجُوْهًا فَنَرُدَّهَا عَلٰٓى اَدْبَارِهَآ اَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ اَصْحٰبَ السَّبْتِ ۭ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ﴿۴۷﴾

ای هغو کسانو چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب ! (ای کتابیانو !) ایمان راوړئ تاسې ! په هغه (قرآن) چې نازل کړی دی مونږ، حال دا چې تصدیق کوونکی دی د هغه کتاب چې تاسې سره دی، پخوا له هغه چې هوار کړو مونږ ډېر مخونه، نو وګرځوو دا (هوار مخونه) په شاګانو د دوی، یا پخوا له دې چې لعنت وکړو پر دوی لکه چې لعنت کړی وو مونږ په اصحابو (د ورځې) د شنبې، او دی امر (حکم) د الله واقع کېدونکی (خامخا).

تفسیر: «ای اهل کتابو ! ایمان راوړئ ! په هغه «قرآن» چې احکام یې له (تورات) سره موافق او د هغه مصدق دی، ایمان راوړئ ! پخوا له هغه څخه چې مونږ ستاسې د مخ علامې یعنې سترګې، پوزې، او نور بدل کړو.

مطلب دا چې که تاسې ایمان را نه وړئ، نو ستاسې څېرې بدلوو، او بیا یې د شا په لوري اړوو، یعنې ستاسې مخ له چیت پیت کولو څخه وروسته د څټ په لوري او ستاسې څټ د مخ په لوري اړوو، (یا دا چې) ایمان راوړئ ! پخوا له دې نه چې مونږ ډېر مخونه محوه کړو، او د څټونو په شان یوه تخته یې وګرځوو»، یا به د شنبې د ورځې د مسخ شویو خلقو په شان تاسې هم مسخ کړو، او له تاسې څنې به ځناوران جوړ کړو.

د ﴿اَصْحٰبَ السَّبْتِ﴾ قصه د «الأعراف» په سورت کې مذکوره ده.

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَاۗءُ ۚ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ افْتَرٰٓى اِثْمًا عَظِيْمًا ﴿۴۸﴾

بېشکه چې الله نه بخښي دا چې شریک ونیولی شي له (الله سره) او بخښي هغه (ګناه) چې نښته وي له شرکه (لویه وي که وړه) هغه چاته چې اراده وفرمایي (د مغفرت یې)، او هر هغه

څوک چې شریک ونیسي له الله سره نو په تحقیق ویې ترل (په الله) دروغ لوی (او ویې کړه) ګناه ډېره لویه.

تفسیر: یعنې مشرک ته له سره مغفرت نشته، بلکه دوزخ یې دائمي سزا ده، هو ! له شرک ځنې ښکته چې کوم صغیره ګناهونه دي یا کبیره، هغه ګرد د مغفرت وړ دي، الله تعالی د هر چا دمغفرت اراده چې وفرمایي؛ د هغه صغیره او کبیره ګناهونه سره له څه عذاب ورکولو یا بې له عذاب ورکولو معافوي، او دا د دې په لوري اشاره ده: څرنګه چې یهودان په کفر او شرک کې مبتلا دي؛ نو دوی دې د مغفرت توقع او هیله نه کوي !.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُم ۚ بَلِ اللَّهُ يُزَكِّي مَن يَشَاءُ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٤٩﴾

آیا نه دي کتلي تا (نه یې خبر له حاله د) هغو کسانو چې پاک ګڼي دوی ځانونه خپل (او په واقع کې داسې نه دي) بلکه (خاص) الله پاکوي هغه څوک چې اراده وفرمایي (د پاکۍ یې)، او ظلم به ونه کړی شي پر دوی په اندازه د یوه نري تار (هم).

تفسیر: یعنې یهودان سره له دومره خرابیو بیا هم خپل ځانونه پاک او مقدس ګڼي، تر دې چې خپل ځانونه «أبناء الله» او «أحباء الله» هم بولي - چې بیخي چټې او لغوه خبره ده، بلکه د هر چا په نسبت چې الله تعالی اراده وفرمایي هغه مقدس او پاکیزه کوي، او د یهودانو په تشه وینا سره هیڅ نه کیږي، د دغو متکبرانو په ډله باندې به لږ ظلم هم نه کیږي، یعنې دغه ډله به د خپلو بدو عملونو له سببه په لوی عذاب اخته کیږي، او په دوی باندې به هیڅکله په ناحقه سره عذاب نه واردیږي.

فائده: یهودانو چې خوسي (سخي) ته عبادت کولو، او (عُزیر علیه السلام) ته یې د الله تعالی ځوی ویل، کله چې هغوی دا آیت ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ﴾ الآیه - واورېده، نو یې ویل چې: «مونږ خو مشرکان نه یو، بلکه د الله تعالی خاص بندګان او د انبیاوو ځامن یو، او پیغمبري ځمونږ میراث دی»، نو الله تعالی د دوی دغې لویۍ او ځانمنۍ په مقابل کې دا آیت نازل کړ.

(فتیل هغې نرۍ پردې ته وایي چې د تارونو په شان د خرماوو د زړو په چاودنو کې وي).

انظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ ۖ وَكَفَىٰ بِهِ إِثْمًا مُّبِينًا ﴿٥٠﴾

وګوره ای (محمده !) چې څرنګه ترې دوی په الله باندې دروغ او (بس) دي دا (دروغ) ګناه ښکاره.

تفسیر: یعنې څومره دتعجب خبره ده چې په الله تعالی باندې دا ډول تهمتونه کوي، او د کفر او شرک له ارتکاب سره خپلو ځانونو ته د الله تعالی دوستان وایي، او د الله تعالی په نزد د مقبولیت مدعیان دي، او داسې سخت تهمت کول د دوی د صریح ګناهګار کېدلو لپاره بیخي کافي دي.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَابِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا هَٰؤُلَاءِ أَهْدَىٰ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا سَبِيلًا ﴿٥١﴾

آیا نه دي کتلي تا هغو کسانو ته چې ورکړی شوی دی دوی ته څه برخه له کتاب څخه، ایمان راوړي دوی په بت او په شیطان او وایي دوی په حق د هغو کسانو کې چې کافران شوي دي: دا (کفار) ښه لاره موندونکي دي له هغو کسانو څخه چې مؤمنان دي، له جهته د لارې.

تفسير: په دې آيت کې هم د يهودانو د شرارت او خباثت اظهار دی، خبره داده کله چې د يهودانو په زړونو کې د محمد صلی الله عليه وسلم عداوت زيات شو، نو د مکې معظمې د مشرکانو سره متفق شول، او د مشرکانو د خوښۍ او د ضرورت له مخې يې د بتانو تعظيم وکړ، او ويې ويل چې: «ستاسې دين د مسلمانانو له دين څخه بهتر دی»، او د دې کار سبب يواځې حسد وو، او غوښتل يې چې نبوت او ديني رياست پرته له مونږ څنې بل چاته ولې ورکړی شوی دی؟ نو په دې مناسبت الله تعالی په دوی باندې الزام اړوي، او په دې آيتونو کې هم دا خبرې مذکوري دي.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ ۖ وَمَن يَلْعَنِ اللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾

دا (حکم کوونکي په غوره والي د کفارو) هغه کسان دي چې لعنت کړی دی (په دوی باندې) الله، او هر هغه څوک چې لعنت (پرې) وکړي الله، نو له سره نه مومي (ته) ده لره کوم مددګار (د عذاب دفع کوونکی).

تفسير: يعنې دا خلق سره له دې چې اهل کتاب دي، د نفساني اغراضو له سببه يې د بتانو تعظيم وکړ، او د کفر طريقه يې د اسلامي طريقې څخه افضله ښکاره کړه، نو په دوی باندې د الله تعالی لعنت دی، او په هر چا باندې چې الله تعالی لعنت وکړي، د هغه حامي او مددګار په دنيا او آخرت کې هيڅوک نشي کېدی.

أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّنَ الْمُلْكِ فَإِذًا لَّا يُؤْتُونَ النَّاسَ نَقِيرًا ﴿٥٣﴾

آيا شته يهودانو ته څه برخه له ملکه (له سلطنته؟ يعنې نشته ! او که شي) نو په دغه وخت کې به ور نکړي دوی خلقو ته (په اندازه د) نقير.

تفسير: يهودانو داسې خيال کاوه چې نبوت او د دين سرداري ځمونږ ميراث دی، او يواځې مونږ د هغه لياقت لرو، نو ځکه به يې د عربي نبي صلی الله عليه وسلم د منلو او متابعت کولو څخه عار کولو، او يو له بل سره به يې ويل، بالآخر حکومت او پاچاهي مونږ ته رسيږي، که د څو ورځو له مخې دا مشرتوب نورو ته هم ور ورسيږي؛ هيڅ پروا نشته، نو په دې نسبت دا آيت نازل شو، چې مطلب يې دادی «آيا يهودانو ته په سلطنت کې څه برخه شته؟ يعنې له سره دوی په سلطنت کې څه برخه نه لري، که دوی ته سلطنت ته ورورسيږي؛ نو خلقو لره د يوې ذرې په اندازه هم فائده نه رسوي، يعنې دوی داسې بخيلان دي چې پخپله پاچاهي کې هم فقيرانو ته يوه ذره شی نه ورکوي، (حال دا چې له سلطنت سره عطاء سخاء او ورکړه لازمه ده).

(نقير هغه داغ ته وايي چې د خورما د زړي په شا باندې وي).

أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَىٰ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۖ فَقَدْ آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُم مُّلْكًا عَظِيمًا ﴿٥٤﴾

بلکه آيا حسد کوي دغه (يهودان) خلقو سره (له محمد او اصحابو سره يې) پر هغه شي چې ورکړی دی هغو ته الله له فضل (احسان، رحمت) خپل، نو په تحقيق ورکړی دی مونږ اولادې د ابراهيم ته کتاب (تورات، زبور، انجيل) او حکمت (شرعي علوم، ژورې خبرې) او ورکړی دی مونږ دوی ته سلطنت ډېر لوی.

تفسير: يعنې آيا که په محمد صلی الله عليه وسلم او د دوی په اصحابو باندې د الله تعالی (د نصرت، عزت، عظمت، سيادت، او د نورو) فضائلو او انعامونو له لیدلو څخه له ډېرې رڅې او حسده مري؛ نو دا بيخي د دوی

لږونتوب او ناپوهي ده، ځکه چې مونږ د ابراهيم عليه السلام کورنۍ ته (چې اسحاق، اسماعيل، يعقوب، يوسف، موسى، داود، سليمان، عيسى، محمد صلى الله عليه وسلم او نور انبياء عليهم السلام دي) کتاب، علم، حکمت، او عظيم سلطنت عنايت کړی دی، نو بيا يهودان د څه له مخې د محمد رسول الله صلى الله عليه وآله وصحبه وسلم په نبوت او عزت باندې حسد او له دوی ځنې انکار کوي؟ ځکه چې اوس هم نبوت او عزت د ابراهيم عليه السلام په کورنۍ کې دی.

فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ بِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ صَدَّ عَنْهُ ؕ وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ سَعِيْرًا ﴿۵۵﴾

نو ځينې له دغو يهودانو هغه دي چې ايمان يې راوړی دی په محمد، او ځينې له دغو (يهودانو) هغه دي چې مخ يې اړولی دی له محمد ځخه، او بس دی دوزخ (د کفارو د عذاب لپاره) ځوښ وهونکی.

تفسير: يعنې د ابراهيم عليه السلام کورنۍ ته الله تعالى تل تر تله بهتري او فضيلت ورکړی دی، او محمد صلى الله عليه وسلم هم له همغې کورنۍ ځخه دی، نو که څوک بې سببه يواځې د کينې او حسد لامله محمد صلى الله عليه وسلم نه مني؛ نو دهغه د سوځولو لپاره د دوزخ لمبې وهونکی اور بس او کافی دی.

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيْهِمْ نَارًا ؕ كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ ؕ

بېشکه هغه کسان چې کافران (منکران) شوي دي په آيتونو ځمونږ ژر به ننباسو مونږ دوی اور ته (چې په کې سوځولي شي)، هر کله چې پاخه شي (وسوځيږي) پوستکي د دوی (په اور کې نو) بدلوو مونږ دوی ته پوستکی غير له هغو، لپاره د دې چې وځکي دوی (تل تر تله نوی نوی) عذاب.

تفسير: يعنې د کافرانو په عذاب کې د نقصان او کمي د نه راتللو له سببه؛ د دوی د پوستکي له سوځېدو ځخه وروسته دوی ته بل پوستکی ورآغوندو، او د هغه په عوض يې ور شين کوو، مطلب دا چې کافران به تل تر تله او يو شان په عذابونو کې آخته او مبتلا وي.

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۵۶﴾

بېشکه چې الله دی ښه غالب قوي (د احکامو په انفاذ) لوی حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: يعنې بېشکه الله تعالى ډېر زبر دست او غالب دی، د کافرانو په هسې سزا ورکولو کې الله تعالى جل جلاله ته هيڅ کومه سختي نشته، او د حکمت خاوند دی، چې کافرانو ته خپل د حکمت سره سمه دا سزا ورکوي.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ لَهُمْ فِيْهَآ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۫ وَّنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيْلًا ﴿۵۷﴾

او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه) زر به ننه باسو مونږ دوی په (هغو) جنتونو کې چې بهيږي له لاندې د (مانيو او ونو) د دوی ويالې، همېشه به وي دوی په دغو

(جنتونو) کې تل (بې انتهاء بلا انقطاع)، وي به دوی ته په دې جنتونو کې ښځې پاکې کړی شوې (له ټولو ناپاکیو څخه) او ننه به باسو مونږ دوی په ګنهو سیورو (په دائمي نعمت او راحت) کې.

تفسیر: یعنې مؤمنان به تل تر تله په جنت کې اوسیږي، او دوی ته به هسې ښایسته ښځې ور په برخه کیږي، چې له حیض، نفاس، او نورو دنیوي ککړتیاوو څخه به بیخي پاکې، صافې، او ستره وي، دوی به په ډېرو ګنهو سیورو کې داخل کړو، چې د لمر له تودوخې او نورو څخه به بیخي محفوظ وي.

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ ۚ

بېشکه الله امر کوي په تاسې (ای مؤمنانو !) د دې چې وسپارئ تاسې امانتونه اهل د اماناتو ته، او کله چې حکم کوئ تاسې (ای قاضیانو ! ای حاکمانو !) په منځ د خلقو کې نو (امر کوي الله چې) حکم وکړئ په انصاف سره !.

تفسیر: په یهودانو کې دا عادت وو چې په امانتونو کې به یې خیانت کولو، او د خصوماتو په فیصلو کې به یې رشوتونه اخیستل، او په نورو اسبابو سره به یې د یوه پلو خاطر، لحاظ، او رعایت کولو، او د حق په خلاف به یې حکمونه کول، نو ځکه مسلمانان له هسې چارو څخه ممنوع ګرځول شوي دي.

منقول دي چې د مکې شریفې د فتحې په ورځ رسول الله مبارک اراده درلوده (لرله) چې (بیت الله) شریف ته دننه ننوځي، د کعبې شریفې کلي ساتونکي (عثمان بن طلحة رضي الله تعالى عنه) د کعبې شریفې د کلي له ورکولو څخه انکار وکړ، نو (علي رضي الله عنه) د ده له لاسه کلي (چابي) په زوره واخیسته، او ور یې پرانیست، کله چې د الله تعالى جل جلاله رسول صلى الله عليه وسلم د کعبې شریفې نه د باندې ووتلو، عباس رضي الله تعالى عنه وغوښتل چې دا د (بیت الله شریف) کلي (چابي) دې ماته راکړه شي !، دلته دا آیت نازل شو، او کلي (چابي) بېرته همغه (عثمان بن طلحة رضي الله تعالى عنه) ته وروسپارل شوه، «او تر نن ورځې پورې هغه کلي (چابي) همغې کورنۍ سره پاتې ده، عثمان بن طلحة رضي الله تعالى عنه به تل ویل: که زه پوهېدی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم کلي (چابي) غواړي؛ نو کلي به مې ترې منع کړي نه وای».

إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا ﴿٥٨﴾

بېشکه الله ښه پند درکوي تاسې ته په هغه سره (چې د امانتونو اداء او په عدل سره حکم کول دي)، بېشکه چې الله دی ښه اوریدونکی (د ټولو اقوالو)، ښه لیدونکی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ ۖ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو !) حکم ومنئ تاسې د الله ! او حکم ومنئ تاسې د رسول (د الله) او (حکم ومنئ) د خاوندانو د حکم له تاسې (مسلمانانو یعنې حاکمانو او مشرانو !).

تفسیر: په پخواني آیت کې یې قاضیانو او حاکمانو ته د عدل حکم وفرمایه، اوس نورو ته د حاکمانو او قاضیانو د حکم په متابعت کولو سره حکم ورکولو کیږي، چې له دې څخه دا راښکاري چې د حکامو او قاضیانو حکم منل به هلته واجبیږي، چې دوی د حق اطاعت وکړي.

فائده: د اسلامي پاچا او د ده د وزیرانو، حاکمانو، قاضیانو، لښکري مشرانو او د نورو واکدارانو حکم منل ضروري دي، تر څو چې دوی د الله تعالى او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له احکامو څنې مخالف کوم حکم ونه کړي، مګر

که د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صریحو احکامو په خلاف کوم حکم ورکوي؛ نو د دغه حکم منل له سره نه دي پکار !.

فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

نو بيا که خلاف مو پيدا شو په يوه شي کې نو وګرځوئ تاسې (فيصله ددی کار) طرف د الله ته (د الله کتاب ته) او رسول ته (د رسول الله حديث ته) که يئ تاسې چې (په اخلاص سره) ايمان لرئ تاسې په الله، او په ورځې آخرې (قيامت) باندې.

تفسير: يعنې که تاسې او د أولو الأمر په منځ کې کوم اختلافات پېښ شي، چې د حاکم دا حکم د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حکمه سره موافق دی که مخالف؟ نو د الله جل جلاله کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنتو ته رجوع وکړئ ! او د هغو له مخې د دې خبرې فيصله وکړئ ! چې آيا هغه حکم في الحقيقت د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حکم سره موافق دی که مخالف؟ او هره هغه خبره چې محققه شي، نو ښايي چې هغه بالاتفاق مسلمه او معموله وګڼئ ! او ښايي چې اختلاف له منځه ورک کړئ !که تاسې په الله تعالی او د قيامت په ورځې باندې له زړه نه ايمان لرئ، نو خامخا به د اختلاف په صورت کې د الله تعالی او د رسول الله مبارک د حکم په لوري رجوع وکړئ ! او د کتاب الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنت د حکم له مخالفت ځنې به خامخا ويرېږئ ! چې له دې ځنې دا حکم را څرګند شو، هر هغه څوک چې د الله تعالی او د رسول الله مبارک له حکم څخه تښتي؛ مسلمان به نه وي، نو ځکه که د دوو مسلمانانو په منځ کې کومه جګړه پېښه شي، او يو د دوی هغه بل ته ووايي: راځه چې شريعت ته لاړ شو، او دا بل ووايي چې: زه شريعت نه پيژنم (نستغفر الله) يا زه (نعوذ بالله) له شريعت سره څه کار نه لرم، نو هغه ته مونږ په يقين سره کافر ويلی شو.

ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا

دغه (رجوع الله او رسول الله ته) خير (ډېر غوره دی تاسې ته له ناقصه فکر ستاسې) او دا (رجوع) ډېره ښه ده د عاقبت له جهته.

تفسير: يعنې خپل منازعات او اختلافات الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راجع کول، او د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم منل مفيد دي، له دې نه چې پخپلو منځونو کې سره جګړې او شخړې (جنګونه) وکړئ ! يا له خپلې رايې سره سم کومه فيصله صادره کړئ، ځکه چې د شريعت په لوري د رجوع کولو انجام بهتر دی.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا

آيا نه دي کتلي تا هغو کسانو ته چې (ظاهري) دعوی کوي دوی چې بېشکه دوی ايمان راوړی دی په هغه (قرآن) چې نازل کړی شوی دی تاته (ای محمده !) او په هغو (کتابونو) چې نازل کړی شوی دی پخوا له تا نه (ای محمده !)؛ اراده لري دوی چې وروړي (خصومت خپل) په طرف د شيطان (کعب بن أشرف) او په تحقيق حکم کړی شوی دی دوی ته چې له دغه طاغوت څخه انکار وکړي (ويې نه مني)، او اراده لري شيطان دا چې ګمراه کړي دوی په ګمراهی لرې سره (له حقه).

تفسير: په (مدينې منورې) کې د يوه يهودي او د يوه منافق په منځ کې په کومه خبره باندې جګړه پېښه شوه، يهودي چې په رښتيا وو، ويې ويل: «راشه ! چې محمد ته لاړ شو !»، منافق چې په نا حقه وو ويې ويل: «راځه چې (کعب بن أشرف) ته لاړ شو !»، چې د يهودانو عالم او مشر وو، بالآخر دوی دواړه د رسول الله مبارک مخې ته حاضر شول، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د جګړې د پېښې له اورېدلو ځخه وروسته د يهودي حق ثابت کړ، کله چې دوی دواړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم له حضوره د باندې ووتل، منافق وويل: «راځه ! چې عمر رضي الله عنه ته ولاړ شو، هره فيصله چې عمر رضي الله عنه وکړه همغه به سره ومنو !، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په فيصله راضي نشو، او قناعت يې ونه کړ.

اغلبا ده به هسې ګڼلې وي چې ځرنګه زه د اسلام مدعي يم، نو خامخا به عمر رضي الله عنه د دې يهودي په مقابل کې ځما رعايت کوي، نو عمر رضي الله عنه ته ولاړل، کله چې عمر رضي الله عنه دغه جګړه واورېده، او د يهودي له بيان ځنې ورښکاره شوه چې دا جګړه د رسول الله مبارک حضور ته هم رسېدلې، او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې قضيې په نسبت خپله فيصله هم صادره کړېده، او د نبی صلی الله علیه وسلم له فيصلې سره سم په دغه جګړه کې هغه يهودي رښتينی او غالب پېژندل شوی دی، نو عمر رضي الله تعالی عنه دغه منافق وواژه، او ويې فرمايل: «ځوک چې د داسې يو حقاني قاضي فيصله ونه مني، نو د هغه فيصله دې په دې ډول سره وکړه شي !»، د دې منافق مقتول وارث د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته راغی، او په عمر رضي الله تعالی عنه باندې يې د قتل دعوی دائره، او قسمونه يې ياد کړل، چې دې عمر رضی الله تعالی عنه ته د دې لامله تللی وو، چې ښايي هغه په دې معامله کې د دوی په منځ کې روغه او صلح وکړي، او داسې نه وو چې هغه د رسول الله مبارک له فيصلې ځنې انکار او غاړه غړولې وه، نو دلته دا آيتونه نازل شول، او په دې آيتونو کې اصل حقيقت ښکاره کړی شو، او د عمر رضي الله تعالی عنه لقب «فاروق» وټاکل شو.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنْكَ صُدُودًا ﴿٦١﴾

او کله چې وويل شي دې (منافقانو) ته راځئ ! طرف د (حکم د) هغه (کتاب) ته چې نازل کړی (رالېږلی) دی الله (يعنې قرآن ته)، او طرف د (حکم د) رسول (د ده) ته (د جګړې د فيصلې لپاره) نو ګورې به ته منافقان چې ګرځي به له تا (له ډېرې دښمنۍ) په ګرځېدلو سره.

تفسير: يعنې که په کومه جګړه کې منافقانو ته وويل شي چې: «د هغه حکم په لوري راشئ !چې د الله تعالی له لوري نازل شوی دی، او د هغه د رسول په مخ کې خپلې جګړې وړاندې کړئ !» کله چې دوی ظاهرا د اسلام مدعيان دي، نو ځکه په صاف ډول سره انکار نشي کولای، مګر ستاسې په حضور کې د راتللو او د الله جل جلاله د حکم له منلو ځخه ځانونه ژغوري، او ببرته ستنيږي، او غواړي چې په کوم چل او فرېب سره ځان تېرې ګوښه کړي، او له رسول الله مبارک ځخه پرته بل کوم ځای ته چې د دوی زړونه يې غواړي لاړ شي، او هلته خپلې جګړې فيصله کړي.

فَكَيْفَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ثُمَّ جَاءُوكَ يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا إِحْسَانًا وَتَوْفِيقًا ﴿٦٢﴾

نو څه به وي (حال د دوی) کله چې ورسيږي دوی ته کوم مصيبت (د منافق د وژلو غم) په سبب د هغو (ګناهونو) چې وړاندې ليږلي دي لاسونو د دوی (چې د رسول الله د حکم نه منل دي) بيا

به راشي دوی تاته (ای محمده !) چې قسمونه به خوري په الله چې اراده نه وه کړې مونږ (عمر ته په ورتلو) مګر د ښېګڼې (اصلاح) او موافقت (د جګړه کوونکو ـ نه مخالفت ستا).

تفسير: کله چې پر دوی باندې عذاب نازل شي، نو هلته به دا منافقان څه وکړی شي، پرته له دې چې د رسول الله مبارک په خدمت کې راشي، او قسمونه وخوري، چې مونږ د عمر رضي الله تعالى عنه خدمت ته يواځې د دې مقصد لپاره تللي وو، چې ښايي هغه ځمونږ په منځ کې صلحه (روغه) وکړي، او ځمونږ مقصود د رسول الله صلى الله عليه وسلم له ارشاد ځنې ځان ژغورل يا غاړه غړول او اعراض نه وو.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَعْلَمُ اللَّهُ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُل لَّهُمْ فِي أَنفُسِهِمْ قَوْلًا بَلِيغًا ﴿٦٣﴾

دغه (منافقان) هغه کسان دي چې معلوم دي الله ته هغه شی (هم) چې په زړونو د دوی کې دی، نو څنګ (تغافل) وکړه ! (مخ واړوه) له دوی څخه (او ناحقه معاذير «عذرونه» يې مه منه !) او پند ورکړه دوی ته او ووايه (ای محمده !) دوی ته په حق د نفسونو د دوی کې خبره بليغه (تأثيرناکه).

تفسير: يعنې د دوی نفاق او دروغ او نورې پلمې (تدبيرونه) ډېرې ښې ورته معلومې دي، نو اوس د الله تعالى پر حکم باندې اکتفاء او د منافقانو له خبرو ځنې تغافل وفرمايه !او د دوی په خبرو باندې هيڅ غوږ مه ږده ! مګر دوی ته په پند ورکولو او د خبرو په ورښوولو کې هيڅ تقصير مه فرمايه !او د دوی له هدايت څخه مه نا اميده او مه مأيوس کېږه !.

وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوا أَنفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴿٦٤﴾

او نه دی لېږلی مونږ هيڅ رسول مګر (لېږلی مو دی) د دې لپاره چې حکم ومانه شي د ده په اذن (حکم) د الله سره، او که بېشکه دغه (منافقان) کله چې ظلم وکړي دوی پر ځانونو خپلو راغلي وی تاته، پس مغفرت غوښتی وی دوی له الله او مغفرت غوښتی وای دوی ته رسول (د الله هم)؛ نو خامخا به موندلی وو دوی الله ښه قبلوونکی د توبې ډېر رحم کوونکی.

تفسير: يعنې الله جل جلاله هر هغه رسول چې د خپلو بندګانو په لوري ليږي، نو په دې غرض يې ليږي، چې د الله جل جلاله له حکم سره سم ګرد بندګان د هغه خبرې و مني، نو دا ضروري وه چې دې خلقو هم د رسول الله مبارک ارشاد د زړه له کومې، بې تأمله لا له پخوا څخه منلی وی، او که له ګناه او خرابۍ کولو څخه وروسته هم ويښ او منتبه شوي وای، او له الله تعالى ځنې يې معافي غوښتي وی، او رسول الله صلى الله عليه وسلم هم د دوی لپاره د معافۍ دعا کړې وی، نو الله تعالى به د دوی توبه قبوله کړي وی، مګر دوی داسې خراب کار وکړ، چې اول يې د (رسول الله) له حکم ځنې چې هغه هم د الله تعالى په حکم وو؛ غاړه وغړوله، نو کله چې د هغه وبال پر دوی باندې ولوېد، بيا هم منتبه او تائب نشول، بلکه د دروغو په قسمونو يې لاسونه پورې کړل، او په بې ځايه تأويلاتو پسې ولوېدل، نو د داسې کسانو مغفرت به په څه ډول سره وشي؟

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾

پس قسم دی په رب ستا، چې نه مؤمنان کيږي دوی تر هغه پورې چې فيصله کوونکي او حَکَم کړي دوی تا په هغه جګړه کې چې پېښه شوې ده په منځ د دوی کې، بيا ونه مومي دوی په

نفسونو (زړونو) خپلو کې خپګان (تنګي ـ ناراضګي) له هغه شي چې حکم (فيصله) کړې وه تا، او (ويې) مني دوی په منلو سره «بې له جګړې په خوښی سره».

وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ اَنِ اقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ اَوِ اخْرُجُوْا مِنْ دِيَارِكُمْ مَّا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ ۖ وَلَوْ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَشَدَّ تَثْبِيْتًا ﴿۶۶﴾ وَّاِذًا لَّاٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ لَّدُنَّآ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۶۷﴾ وَّلَهَدَيْنٰهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۶۸﴾

او که په تحقيق مونږ فرض کړی وی پر دغو (مدعيانو د ايمان) دا چې مړه کړئ تاسې ځانونه خپل ! يا ووځئ تاسې له کورونو خپلو ! (لکه چې بني اسرائيلو ځانونه وژلي او وتلي وو) نو نه به وو کړی دوی هغه (قتل او جلا وطني) مګر لږو کسانو له دوی نه.

او که په تحقيق دوی کړی وی هغه کار چې پند ورکولی شو دوی ته په هغه سره؛ نو خامخا به وو دا کار خير (ډېر غوره) دوی ته، او ډېر به کلک وو له جهته د محکموالي (د ايمان). او په دغه وخت کې به خامخا ورکړی وو مونږ دوی ته (خاص) له خپله درباره اجر (ثواب) ډېر لوی (جنت او نور). او خامخا به برابر کړي (بيولی) وو مونږ دوی لارې سمې ته (او رسېدل به خپل مقصود ته).

تفسير: دوی وپوهوه ! کوم حکم چې مونږ د دوی په نسبت ورکړی دی، هغه يواځې د دوی د پند او خير غوښتلو لپاره دی، نه د ځان د هلاکولو حکم دوی ته ورکړی شوی دی، او نه له وطن ځنې د جلا کېدلو، که دوی په دې سهل او آسانه حکمونو باندې تګ وکړي، نو نفاق به بيخي ورک شي، او دوی به خالص مسلمانان شي، مګر افسوس چې دوی نه پوهيږي، او موجوده حالت غنيمت نه ګڼي، چې په لږ اخلاص او ښه عمل سره دوی ته د دين او دنيا ښېګڼې ور په برخه کيږي.

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴿۶۹﴾

او هر څوک چې حکم ومني د الله او د رسول (د الله)؛ نو دغه کسان به له هغه چا سره وي (په جنت کې) چې انعام کړی دی الله پر دوی باندې، چې انبياء دي، او صديقان دي، او شهيدان دي، او صالحان دي، او ښه دي دغه کسان له جهته د رفاقته (چې ښه ملګري دي).

تفسير: «نبي» هغه دی چې د الله جل جلاله «وحي» پرې راځي، يعنې پرښته ظاهرا د پاک الله پيغام ورته وايي، «صديق» هغه دی چې هغه پيغام او احکام چې د الله تعالی له لوري رسولانو ته راځي؛ د ده زړه پخپله په هغه باندې شهادت ورکړي او پرته له چون و چرا ځخه د هغه تصديق وکړي.

«شهيد» هغه دی چې د الله تعالی او انبياوو عليهم السلام په احکامو خپل ځان په شهادت ورسوي، او تل ورته حاضر وي.

«صالح» او نېک بخت هغه دی چې له خرابو خبرو ځنې يې خپل نفس او بدن اصلاح او صفا کړی وي.

مطلب دا چې دا څلور واړه ياد شوي قسمونه د امت له نورو افرادو ځنې افضل دي، ځکه چې د دوی ګرد اقوال، افعال، او احوال له شرعي سره موافق دي، او پرته له دوی ځنې نور مسلمانان که څه هم له دوی سره په درجه کې برابر نه دي، خو که د الله تعالی او د پاک رسول په امر منلو کې مشغول وي، نو دا کسان به هم د همدوی په ذيل

کې راځي، او د دې حضراتو رفاقت د ډېرې ښېګڼې او د فضیلت خبره ده، او هیڅوک دې هغه حقیر ونه ګڼي.
فائده: په دې آیت کې دې ته اشاره ده، هغه منافقین چې دهغوی ذکر شوی یا کیږي؛ له دې رفاقت او معیت څخه بې برخې دي.

ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ۝

دا (ملګرتیا) فضل (احسان، رحمت) د ی له (جانبه د) الله نه، او کافي دی الله ښه پوه (په ټولو نیتونو او عملونو هم).

تفسیر: یعنې الله تعالی او دپاک رسول حکم منونکو ته د انبیاوو (علیهم السلام) او صدیقانو (رضي الله تعالی عنهم) او شهیدانو (رحمهم الله) او صالحانو (رحمهم الله) رفاقت میسر کېدل د الله تعالی لوی انعام او د ده محض فضل دی، او د دوی داطاعت په عوض کې نه دی، نو له هغه ځنې منافقان بیخي محروم دي، او الله کافي دی ښه پوهیدونکی او ښه خیر لرونکی، چې د هر مخلص او منافق احوال او د هر مطیع طاعت او د ده د طاعت اصلي استحقاق او د فضل مقدار مفصلا ور معلوم دی، نو اوس دې هیڅا ته د دې امورو د تفاصیلو له امله د الله جل جلاله د وعدې په پوره کېدلو کې څه اند ښښنه او خلجان پیدا نشي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا خُذُوْا حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ اَوِ انْفِرُوْا جَمِيْعًا ۝

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی (ای مؤمنانو !) واخلئ تاسې وسلې خپلې (یا ځان له کفارو وساتئ ! او ورته هوښیار اوسئ !) بیا ووځئ تاسې (غزا ته) ډلې ډلې (جلا جلا فوځ) یا ووځئ تاسې ګرد سره یو ځای.

تفسیر: دلته د «جهاد» ذکر شروع کیږي، یعني: «ای مسلمانانو ! د منافقانو کیفیت خو تاسې ته لا له پخوا څخه معلوم شوی دی، او ستاسې خیر په دې کې دی، چې تاسې د خپلو ځانونو هر قسم مدافعه وکړئ، او له با خبری او احتیاط ځنې کار واخلئ ! اعم له دې نه چې دا کار د وسلې په قوت سره وي، که د تدبیر یا د عقل او سامان په وسیله، او د دښمنانو د مقابلې لپاره له کوره د باندې ووځئ ! په متفرق صورت، یا د جمعیت په ډول، څنګه چې موقع وي.

وَاِنَّ مِنْكُمْ لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ ۚ

او بېشکه ځینې له تاسې خامخا هغه څوک دي چې خامخا تأخیر به کوي (په تللو کې غزا ته).

تفسیر: یعنې ای مسلمانانو ! ستاسې په جمعیت کې ځینې هغسې کسان هم ننوتلي دي، چې «جهاد» ته په تللو کې ځنډ کوي، او ببرته تري پاتې کیږي، او د الله جل جلاله د حکم تعمیل نه کوي، بلکه دنیوي منافعو ته یې سترګې نیولي دي، او له دوی څخه مراد منافقان دي لکه (عبد الله بن أبي) او د هغه ملګري، چې دې خلقو په ښکاره سره اسلام منلی وو، مګر د دوی مقصود له دې خبرو څخه فقط دنیوي منافع وو، او د الله تعالی له امر منلو سره یې هیڅ ارتباط او علاقه نه وه.

فَاِنْ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَالَ قَدْ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ اِذْ لَمْ اَكُنْ مَّعَهُمْ شَهِيْدًا ۝

نو که ورسیږي تاسې ته کوم مصیبت (لکه قتل یا هزیمت) نو وایي دا (متخلف منافق): په تحقیق انعام (فضل، احسان) کړی دی الله پر ما باندې ځکه چې نه وم (زه) له دوی سره حاضر (په جهاد کې).

فرمايي: وروسته د غزا له ورتللو به که مسلمانانو ته په «جهاد» کې کوم ربړ ورپېښېده، لکه چې زخميان يا شهيدان کېدل، يا به يې ماتې موندله، نو منافقان به ډېر خوشالېدل، او ويل به يې چې: د الله تعالى لوی فضل وو چې په جنګ کې مونږ له دوی سره يو ځای نه وو، که نه ځمونږ هيڅ خير په کې نه وو، (الحمد لله) چې په ښه چم (چل) سره تري خلاص شو.

وَلَئِنْ أَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللَّهِ لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمْ تَكُنۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُۥ مَوَدَّةٌ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧٣﴾

او که ورسيږي تاسې ته فضل (احسان، رحمت) له (طرفه د) الله (لکه فتح يا غنيمت) نو خامخا هرو مرو به وايي دا (متخلف منافق) ګواکې چې نه وه په منځ ستاسې او په منځ د ده کې هيڅ دوستي (او وايي به): ای کاشکې زه (هم) وی له دوی سره، نو بريالی شوی به وم په بري ډېر لوی سره (له غنائمو).

تفسير: يعنې که په مسلمانانو باندې د الله تعالى فضل وشي، لکه چې بری ومومي، يا د غنيمت ډېر مال لاس ته ورشي، نو منافقان ډېر خپه کيږي، لاسونه سره منبي (مروړي)، غاښونه چيچي او لکه د ښمنان د حسد د غلبې له کبله وايي: «هی ! د افسوس ځای دی ! چې مونږ ولې له مسلمانانو سره په «جهاد» کې شريکان نه شو، او له دې لويې ولجې (غنيمت) او بري څخه خوشې چې بې برخې پاتې شو، که مونږ له مسلمانانو سره ملګرتوب کړې وای؛ نو زيات مال به مو په لاس راغلی وی»، يعنې منافقانو ته به يوائې په خپله محرومي باندې افسوس نه وي، بلکه له خپلې محرومی څخه به زيات د مسلمانانو په بري باندې لا ډېر زيات د حسد په رنځ او اضطراب کې لويږي، نو الله تعالى فرمايي:

فَلْيُقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يَشْرُونَ الْحَيَوٰةَ الدُّنْيَا بِالْءَاخِرَةِ ۚ وَمَن يُقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ اللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٧٤﴾

پس جنګ دې وکړي په لاره د الله کې هغه کسان چې خرڅوي دوی حيات دنيوي (ژوندون لږ خسيس) په آخرت، او هرڅوک چې جنګ وکړي په لاره د الله کې (د دين د ترقی لپاره) پس شهيد کړی شي، يا غالب (غازي او بريالی شي پر دښمن)؛ نو ژر به ورکړو مونږ ده ته اجر ډېر لوی.

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَٰنِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا ۚ وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا ۚ وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾

او څه شوي دی پر تاسې چې جنګ نه کوئ تاسې په لاره د الله کې (د دين د ترقی لپاره) او په (خلاصولو) د ضعيفانو کې چې سړي دي، او ښځې دي، او هلکان دي، هغه کسان چې وايي دوی: «ای ربه ځمونږه ! وباسه مونږه له دې کلي (د مکې) څخه ! چې ظالمان دي اوسيدونکي د هغې، او وګرځوه مونږ ته له خپله درباره کوم ولي (حامي، ساتونکی) ! او وګرځوه مونږ ته له خپله درباره کوم مددګار !» .

تفسير: يعنې ستاسې جنګېدل له کفارو سره له دوه جهته ضروري دي:

(۱): د الله تعالى د دين د لوړولو او غالبولو په غرض.

(۲): د هغو مظلومو مسلمانانو د خلاصولو لپاره؛ چې د کافرانو په لاسونو کې خوارو زار پراته دي، په مکې معظمې کې ډېر داسې مسلمانان وو، چې ځمونږ له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې د مدينې منورې په لوري «هجرت» ونشو کړی، او کفارو د دغو مسلمانانو خپلوان ربړول (کړول)، او دې ته يې مجبورول چې ببرته کافران شي، نو پاک الله مسلمانانو ته امر وکړ چې تاسې ته له کافرانو سره جنګېدل ضروري دي.

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ ۚ اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا ۝

هغه کسان چې ايمان لرونکي دي جنګ کوي دوی په لاره دالله کې (د دين د ترقي لپاره)، او هغه کسان چې کافران شوي دي جنګ کوي دوی په لاره د شيطان کې، نو جنګ وکړئ تاسې له دوستانو د شيطان سره !، بېشکه چې مکر د شيطان ضعيف دی.

تفسير: يعنې ځنګه چې دا خبره ښکاره ده چې مسلمانان د الله تعالى په لاره کې او کافران د شيطان په لاره کې جنګيږي، نو بيا مسلمانانو ته د شيطان له دوستانو يعنې کافرانو سره بلا تأمل جنګېدل ضروري دي، هر کله چې الله جل جلاله د دوی مددګار دی؛ نو نور هيڅ ډول تردد نه دی پکار، او وپوهيږئ چې د شيطان حيله او فريب کمزوری او ضعيف دی، او پر مسلمانانو باندې نه چليږي، له دي ځنې مقصد جهاد ته د مسلمانانو ترغيب او تشجيع ده.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ۚ

آيا نه دي کتلي تا (نه دی رسېدلی تاته حال د) هغو کسانو چې وويل شو دوی ته: ونيسئ تاسې لاسونه خپل (له جنګه په مکه کې) او قائم کړئ (سم اداء کړئ سره له ټولو حقوقو) تاسې لمونځ او ورکړئ ! تاسې زکات !.

تفسير: په مکې معظمې کې پخوا له هجرته کافرانو په مسلمانانو باندې ظلم او تېری کول خپل کار ګرځولی وو، مسلمانان به ځمونږ د پاک رسول الله حضور ته ورتلل، او شکايتونه به يې وړاندې کول، او اجازه به يې غوښتله چې له کفارو سره مقاتله وکړي، رسول الله مبارک به مسلمانان له مقاتلې ځنې منع کول، او ويل به يې چې: «ماته لا د مقاتلې حکم نه دی راکړی شوی، تاسې صبر وکړئ ! او حوصله له لاسه مه باسئ ! ځکه پر مونږ باندې د صبر او ثبات او استقامت حکم شوی دی، او د لمانځه او زکات هغه حکمونه چې په تاسې باندې شوي دي؛ هغه برابر په ځای راوړئ ! ځکه تر څو چې انسان د الله تعالى په اطاعت کې له خپل نفس سره «جهاد» ونه کړي، او د جسماني تکاليفو په ګاللو او دخپل مال په صرفولو زړور نشي، نو ده ته «جهاد» او خپل ځان ځارول ډېر درومند وي»، همدا خبره مسلمانانو هم منلې وه (چې لمونځ کوو، زکات ورکوو، او «جهاد» ته منتظر يو).

فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّٰهِ اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَقَالُوْا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ ۚ لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۗ

نو کله چې (په مدينه کې) فرض کړ شو په دوی باندې (له کفارو سره) جنګ، په دې وخت کې يوه ډله له دوی نه ويرېدله له خلقو نه په شان د ويرې (د دوی) له الله نه، بلکه ډېر زيات له جهته د

وېړي، او وويل دوی: ای ربه ځمونږه ! ولې دې فرض کړ په مونږ باندې جنګ، ولې دې وروسته نه کړو مونږ تر هغې نېټې نږدې پورې.

تفسير: يعنې له هجرت وروسته کله چې مسلمانانو ته له کفارو سره د جنګېدلو حکم ور کړ شو؛ نو بايد چې مسلمانان خوشحاله شوي وی، چې ځمونږ غوښتنې ومنلې شوې، او خپلو مرادونو ته ورسېدو، مګر ځنې ناقص مسلمانان د کفارو له مقاتلې ځنې داسې ويرېدل لکه چې څوک د الله تعالى له عذابه ويرېږي، يا له هغه ځخه هم زيات ويرېدل، او هيله او آرزو به يې کوله که د لږ څه مودې له مخه بيا هم د قتال امر (وروستو شي) نښه به وي، چې مونږ ژوندي پاتې شو.

(ځينې مفسرين ليکي چې: له مرګ ځخه دا وېره د طبيعي کراهت له امله وه، نه د الله تعالى له حکم ځخه د غاړې غړولو له کبله).

قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيلٌ ۚ وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقَىٰ ۖ وَلَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧٧﴾

ووايه (ای محمده ! دغو ويرېدونکو ته) متاع (فائده) د دې دنيا ډېره لږه ده، او آخرت ډېر غوره دی هغه چا ته چې ويريږي (له الله نه)، او ظلم به ونه کړی شي پر تاسې (په اندازه) د يوه ډېر نري تار.

تفسير: يعنې ځرنګه چې د ژوندانه او د دنيوي منافعو د رغبت له امله دې خلقو ته د «جهاد» حکم دروند ښکاره شو، نو ځکه حق تعالى فرمايي چې: دوی ته ووايه، دنيوي ګرد منافع حقير او سريع الزوال دي، او اخروي ثواب هغو ته ښه او بهتر دی، نو ښايي چې تاسې په پوره شوق او همت سره په «جهاد» کې مصروف اوسئ، (او يقين وکړئ چې پر تاسې باندې به په اندازه د هغه ډېر نري تار چې د خرما د زړو په چاودونو کې دی، او دګوتې په منبلو سره ځرګندېږي، ظلم ونه کړی شي).

أَيْنَ مَا تَكُونُوا يُدْرِككُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ۗ

هر چېرته چې اوسئ تاسې وبه مومي تاسې لره مرګ، اګر که اوسئ تاسې په برجونو (په کلاګانو، مانيو) ډېرو لوړو محکمو مضبوط کړی شويو کې.

تفسير: يعنې که هر څومره مضبوط، محفوظ، مأمون، او بې ويرې ځای کې واوسېږئ، خو بيا هم د مرګ له لاسه ځان نه شي ژغورلئ، او خامخا مرګ تاسې ته در رسيږي، ځکه چې هر يوه لره موت مقرر شوی دی، او په خپل وخت کې خامخا هر چاته هر چېرې راتلونکی دی، نو که «جهاد» ته هم لاړ نشئ، خو بيا هم له موت ځخه له سره ځان نشئ ژغورلی، خو اوس له جهاده مه ويرېږئ !، ځکه چې له موت او د کافرانو له مقاتلې ځخه ويرېدل بيخي ناپوهي او په اسلام کې د مسلمانانو د نقصان دليل دی.

وَإِن تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ مِنْ عِندِ اللَّهِ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ مِنْ عِندِكَ ۚ

او که ورسيږي دوی ته څه نيکي (لکه پراخي) نو وايي: دا (نيکي) له (جانبه) د الله ده، او که ورسيږي دوی ته څه بدي (لکه قحط) نو وايي دوی: دا (بدي) له جانبه ستا ده.

يعنې د دې منافقانو يوه بله عجيبه خبره واوره ! که د جنګ تدبيرونو نښه نتيجه ورکړه، او فتح او برى حاصل شو، او مسلمانانو ته د غنيمت او ولجې مالونه په لاس ورغلل، نو وايي: «دا د الله له

لوري دي»، يعني يوه اتفاقي خبره پېښه شوې ده، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له تدبيرونو څخې انكار كوي، او كه تدبير په ظاهر كې نتيجه ورنه كړه، او د هغه له امله هزيمت او نقصان پېښ شو، نو دلته د رسول الله صلى الله عليه وسلم په تدبيرونو باندې الزامات لګوي، (يهودانو) به ويل: «له هغه كال څخه چې د محمد قدم په مدينه كې ايښود شوى دى، د غلو نرخونه پورته او د ځمكې او د باغونو حاصلات ښكته شوي دي !».

قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۖ فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا ﴿٧٨﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) دا ټول (خير او شر) له (جانبه) د الله دى، پس څه سبب دى، دې قوم لره چې نه دي نږدې (دې ته) چې پوه شي دوى په هيڅ خبره باندې.

تفسير: الله تعالى فرمايي چې اى محمده ! (صلى الله عليه وسلم) دوى ته هسې ځواب وركړه چې ښه او بد (تنګي او پراخي، قحطي او ارزاني بلكه هر خير اوشر) ګرد د الله تعالى له لوري دى، په هسې خبرو كې بل هيڅوك ګوتې نشي وهلى، او نه څوك په كې مداخله كولى شي، ستاسې دا الزام په نبي باندې بيخي غلط او له يوې مخې ناپوهي ده، كوم تدبير كه ظاهري نتيجه ورنه كړي، خراب يې مه ګڼئ ! دا د الله تعالى حكمت دى چې تاسې ته ښوونه كوي، په سمه صافه لاره مو راولي، او ستاسې ازموينه كوي.

مَآ اَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ۘ وَمَآ اَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَّفْسِكَ ۭ وَاَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿٧٩﴾

هر هغه شى چې ورسېد تاته (اى انسانه !) له نېكى راحت، او خوشحالى څخه نو (هغه) له (جانبه د) الله دى، او هر هغه شى چې ورسېد تاته (اى انسانه !) له بدى، زحمته، او مصيبته نو (هغه) له (جانبه د) نفس ستا دى، او لېږلى يې مونږ ته (اى محمده !) لپاره د (ټولو) خلقو رسول، او بس دى الله شاهد (په رسالت ستا اى محمده !).

تفسير: يعني اصلي خبره خو همدا ده چې د ګردو نېكيو او بديو موجد اګر كه الله جل جلاله دى، مګر بنده لره ښايي چې نيكي او ښېګڼه د الله تعالى انعام، فضل، او احسان وګڼي، او بدي، خرابي، او سختي د خپلو اعمالو له شامته وبولي، او د هغه الزام په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې وا نه چوي، ځكه چې رسولان د هسې امورو موجد او سبب نشي كېدى، بلكه موجد يعني د دې خبرې پيدا كوونكى الله تعالى دى، او سبب يې ستاسې اعمال دي.

مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ۚ وَمَنْ تَوَلّٰى فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ﴿٨٠﴾

هر چاچې حكم ومنلو د رسول (د الله) نو په تحقيق چې حكم ويې ومنلو د الله، او هر څوك چې وګرځېد (له اطاعته نو مه خپه كېږه اى محمده ! ځكه چې) نه يې لېږلى مونږ ته په دوى باندې ساتونكى (څارونكى د اعمالو).

وَيَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ ۡ فَاِذَا بَرَزُوْا مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ طَاۗىِٕفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِيْ تَقُوْلُ ۭ وَاللّٰهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُوْنَ ۚ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَي اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿٨١﴾

او وايي دوى (ځمونږ كار ستا) اطاعت دى، نو كله چې راووځي دوى له تا څخه نو د شپې (په مشوره سره وايي) يو ډله له دوى غير له هغې خبرې نه چې وايې (دا طائفه تاته)، او الله ليكي هغه

خبرې چې د شپې يې (په مشوره سره) وايي دوی، نو په څنګ شه ته ! له دوی نه (او ترې تغافل وکړه ته !) او توکل (اعتماد) وکړه په الله باندې ! او بس دی الله وکیل (کار جوړوونکی).

تفسیر: د دغو منافقانو یوه بله مکاري واورئ ! ستاسې به مخکې وایي: ستاسې حکم مو ومنلو، او چې د باندې لاړ شي؛ ستاسې په مخالفت مشورې سره کوي، یعنې ستا په نافرمانۍ او مخالفت په خپلو منځونو کې سره جرګې کوي، او د الله تعالی په دربار کې د دوی دا ګردې مشورې هم لیکلي کیږي، او دوی ته د دوی د ګردو اعمالو او اقوالو سزا ورکوله کیږي، نو ای نبي علیه السلام ! ته له دوی څنې خپل مخ وګرځوه ! او د دوی د هیڅ خبرې پروا مه لره ! او خپل ټول کارونه الله جل جلاله ته وسپاره، پاک الله تاته کافي او بس دی.

«طاعةٌ» د محذوفې مبتدأ خبر دی، چې هغه «أمرُنا» دی.

ځینې مفسرین وایي چې: ﴿تَقُوْلُ﴾ د غائب مؤنث صیغه او فاعل یې ﴿طَآئِفَةٌ﴾ دی، لکه چې په دغه پاس ترجمه او تفسیر کې یې ګورئ.

ځینې مفسرین یې په مخاطب مذکر سره ترجمه کوي، چې فاعل یې محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دی.

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا ﴿٨٢﴾

آیا نو فکر غور نه کوي دوی په دې (فصیح بلیغ معجز) قرآن کې، او که وي (دا قرآن) له جانبه د غیر د الله څخه نو خامخا موندلی به وو (دوی) په هغه کې اختلاف ډېر (لکه چې د بشریت کلام کې د معناګانو تناقض او د الفاظو تفاوت موندل کیږي).

تفسیر: دا خلق په قرآن کریم کې غور نه کوي، چې دوی ته په صاف ډول سره دا ورڅرګنده شي، چې قرآن عظیم د الله تعالی کلام دی، وګورئ ! که لوی قرآن د الله تعالی کلام نه وی، لکه چې تاسې ګمان کوئ؛ نو ضرور به د (قرآن شریف) په ډېرو مواقعو کې راز راز اختلافونه لیدل کېدل.

وګورئ ! انسان له هر حالت سره سمې خبرې کوي، او له هغه حالت سره موافقې خبرې کوي، هر نوې حالت چې پیښیږي؛ د هغه بل حالت خیال انسان ته نه پاتې کیږي، که دا قرآنکریم د الله تعالی کلام نه وي، نو د غصې په حالت کې به یې د مهربانۍ وړ کسانو ته توجه نه کوله، او د مهربانۍ په وخت کې به یې د غصې خبرې هیرولې، او د دنیا په بیان کې به یې د آخرت لحاظ نه ساته، او د آخرت په بیان کې به یې د دنیا څه خبرې نه کولې، په بې پراویۍ کې به د عنایت څه ذکر نه وی، او په عنایت کې به د بې پروایۍ فکر نه وی، بالجمله د هر حال کلام به یې وایه، او د یوه حال کلام به یې د بل حال کلام څنې مختلف په نظر راته، لیکن څرنګه چې (قرآن عظیم الشأن) د خالق کلام دی، نو په دې کې د دغو ګردو حالاتو او جوانبو لحاظ شته، او تر نظر لاندې نیولی شوی دی، له غور او فکر څخه وروسته معلومیږي چې په (قرآن شریف) کې د هر شي بیا د هر مقام په اقتضاء په همغه یو اسلوب سره دی.

فائده: په دی کې دې خبرې ته هم اشاره وشوه، هر څوک چې له تدبر او فهم څخه کار وانخلي، نو ده ته په دې قرآن عظیم کې د شبهاتو او اختلافاتو وهم هم لوېدی شي، مګر پوه او فهیم سړی له سره داسې نه کوي، په دې مقام کې که څوک له فهم او تدبر څخه کار وانخلي، نو ویلی شي چې اول یې وفرمایل: ﴿قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ اللَّهِ﴾ بیایې وفرمایل: ﴿وَمَا أَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ﴾ نو دلته خو تناقض او اختلاف راغی، (حال دا چې مونږ له هغه پاس تقریر سره هیڅ یو اختلاف نشته) والله أعلم.

وَإِذَا جَآءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِۦ

او کله چې راشي دې (منافقانو) ته کوم امر (خبره) له امن (نصرت) یا (کوم خبر له) ویرې (هزیمت) نو مشهوروي دوی هغه (خبر).

تفسیر: یعنې په دې منافقانو او ناقصو مسلمانانو کې داسې خرابي شته، کله چې د امن کومه خبره وراندې شي، لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له چا سره د صلحې او روغې اراده وفرمایي، یا د اسلامي لښکرو د بري زېرې واوریدل شي، یا کومه ویروونکې خبره واوري، لکه چې دښمنان چېرې سره ټول شوي وي، یا د مسلمانانو د ماتې خبره واوري؛ نو داسې خبرې بې له تحقیقه مشهوروي او خوروي یې، چې له هغو څخه علی الأکثر مسلمانانو ته نقصان او فساد پېښیږي، منافق د ضرر رسولو په قصد او ناپوهۍ له امله داسې کوي.

وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنۢبِطُونَهُۥ مِنْهُمْ

او که دوی ورسولې (او پرېښي) وی دا خبر رسول (د الله) ته او حاکمانو خپلو ته له دوی نه؛ نو خامخا معلوم به وی (تدبیر) د دې کار هغو کسانو ته چې ایستلی (او ښلولی شي ښه له بدو) له دوی ځنې (رسول الله او اُمراء، نو تحقیق به یې شوی وی).

تفسیر: یعنې که له کوم ځای څخه کوم خبر ورورسیږي، نو ښایي چې لومړی یې خپل مشر او د هغه نائبانو ته ووایي، کله چې دوی د دې خبرې تحقیق او تسلیم وکړي، نو بیا دې د دوی له وینا او فیصلې سره سم د هغه نقل دې بل چا ته وکړي، او پر هغه باندې دې عمل وکړي.

وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَٰنَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٣﴾

او که نه وی فضل د الله پر تاسې (په اسلام) او رحمت د ده (په نزول د قرآن) نو خامخا به متابعت کړی وو تاسې د شیطان مګر (متابعت به نه وو کړی له تاسې څخه) لږو.

تفسیر: یعنې که الله جل جلاله پخپل فضل ستاسې د اصلاح او تربیت لپاره احکام نه وی لیږلي، او تاسې ته یې وخت په وخت سم له ضرورته هدایت اوتنبیه نه وی فرمایلي، لکه چې په دې موقع کې یې رسول الله صلی الله علیه وسلم او مشرانو ته د رجوع کولو هدایت وفرمایه؛ نو تاسې به ګمراه شوي وئ، مګر څو خواص چې کامل العقل او کامل الایمان دي، همغسې به په ایمان قائم او ثابت پاتې وای، (د الله تعالی دا تنبیهات) انعام وګڼئ ! او په شکر ایستلو سره د هغه پوره تعمیل وکړئ !.

فَقَٰتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ ۚ عَسَى اللَّهُ أَن يَكُفَّ بَأْسَ الَّذِينَ كَفَرُوا ۗ

نو جنګ وکړه ته په لاره د الله کې (لپاره د ترقۍ د دین پخپله ای محمده ! که بل چا درسره ملګرتیا نه کوله)، نه یې مکلف کړی شوی ته مګر په حق د ځان خپل او تښوه مؤمنان (په جهاد او ورترغیبوه یې !)، نږدې ده چې الله بنده کړي (سختي د) جنګ د هغو کسانو چې کافران شوي دي.

تفسیر: یعنې که د کافرانو له جنګ څخه دا منافقان او ناقص مسلمانان (چې د هغوی ذکر پاس تېر شو) ویریږي، نو ای رسوله ! ته یواځې بالذات په خپل سر په «جهاد» کولو کې توقف مه کوه ! الله جل جلاله ستا مددګار دی، او مسلمانانو

ته د «جهاد» تاکید وکړه ! هغه کسان چې له تاسې سره ملګرتیا نه کوي، د دوی هیڅ پروا مه کوه ! هیله (امید) شته چې الله تعالی د دې کافرانو د جنګ مخه ونیسي.

وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّاَشَدُّ تَنْكِيْلًا ﴿۸۴﴾

او الله ډېر سخت دی له جهته د هیبت، جنګ، او ډېر سخت دی له جهته د عذاب ورکولو (له دغو کفارو نه).

تفسیر: یعنې د الله تعالی عذاب او له کافرانو سره د هغه جنګ ډېر سخت دی، نو هغه کسان چې د کافرانو له جنګ او د هغوی له لاسه له وژل کېدو څخه ویریږي، نو دوی به د الله جل جلاله د قهر او د ده د عذاب تحمل په څه ډول سره وکړی شي؟

مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ وَمَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ مِّنْهَا ۗ

او هر څوک چې سپارښت وکړي سپارښت نېک (له شرعې سره سم) نو وي به دې (سپارښت کوونکي) لره یوه برخه (د ثواب) په سبب د هغه سپارښت سره، او هر څوک چې سپارښت وکړي سپارښت ناکاره (له شرعې خلاف) نو وي به دې (سپارښت کوونکي) لره یو بار «برخه د ګناه» په سبب د هغه سپارښت سره.

تفسیر: یعنې که څوک په نېکو کارونو کې سعي او سپارښت وکړي، لکه چې نبي صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته د جهاد ترغیب ورکوي، یا څوک په خرابو چارو کې کوښښ کوي، لکه چې منافقان او سست مسلمانان چې هم پخپله له جهاده ویریږي، او هم د نورو د ویرولو اسباب برابروي، نو په لومړي صورت کې به د ثواب او په وروستني صورت کې به د ګناه برخه دوی ته ورسیږي، هم داسې که څوک د کوم محتاج سپارښت وکړي، او له کوم دولتمن څخه ورته واخلي، نو دې به هم د هغه خیرات په ثواب کې داخلیږي، که څوک د کوم کافر یا مفسد یا سارق او نورو سپارښت وکړي، او هغه د حاکم یا د نورو له لاسه خلاص کړي، او هغه بیا فساد او غلا وکړي نو دې هم په هغه فساد او غلا کې ورسره شریک دی.

وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيْتًا ﴿۸۵﴾

او دی الله پر هر شي باندې قدرت لرونکی (نو وربه کړي جزا هر چا لره په عمل د ده سره).

تفسیر: یعنې الله تعالی پر ټولو شیانو قادر او د هر شي د برخې تقسیم کوونکی دی، نو د نېکۍ او بدۍ په حصه کولو کې ده ته هیڅ کوم تکلیف نه پېښیږي.

وَاِذَا حُيِّيْتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوْا بِاَحْسَنَ مِنْهَآ اَوْ رُدُّوْهَا ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيْبًا ﴿۸۶﴾

او هر کله چې سلام وکړه شي تاسې ته په یوه سلام سره؛ نو تاسې هم (جواب د) سلام وکړئ (هغه ته)په سلام ښه سره له هغه نه، یا ور وګرځوئ همغه (سلام)، بېشکه چې الله دی پر هر شي باندې ښه حساب کوونکی (نو درسره حساب کوي او جزا درکوي).

تفسیر: یعنې ای مسلمانانو ! کله چې کوم مسلمان تاسې ته دعا وکړي یا سلام واچوي، نو تاسې هم خامخا د هغه ځواب ووایئ ! یا همغه کلمه تاسې هم هغه ته وایئ ! یا له هغه څخه ښه او بهتره دعا وکړئ ! مثلا که څوک «السلام

علیکم» ووایي؛ نو پر تاسې باندې واجب دي چې د هغه په ځواب کې «وعلیکم السلام» ووایئ، او که زیات ثواب غواړئ، نو «ورحمة الله» هم پرې زیات کړئ، او که هغه دا لفظ زیات کړي، نو تاسې پرې «وبرکاته» زیات کړئ ! او د الله تعالی په دربار کې به د هر هر شي حساب وي، او د همغه اجر به یې در رسیږي، سلام او د هغه ځواب هم په همدې کې راغلل.

فائده: په دې کې د شفاعت حسنه پوره ترغیب وشو، او د شفاعت سیئه خرابي او مضرت هم معلوم شو، ځکه الله جل جلاله هغه چا ته چې نېک شفاعت یې کړی وي، ثواب ورکوي، او هغه چاته چې په حق یې شفاعت شوی وي؛ امر کوي چې له شفاعت کوونکي سره نېکه معامله وساتي، په خلاف د سیئه شفاعت، چې له هغه ځخه د محرومیت او معصیت نه پرته بل هیڅ شی نه په برخه کیږي.

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ؕ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيْثًا ﴿۸۷﴾

الله چې دی، نشته هیڅ لایق د عبادت مګر یواځې هم دی دې، خامخا راجمع به کړي، هرومرو تاسې ورځې د قیامت ته، چې نشته هیڅ شک په هغې (ورځې یا په دې جمع) کې او څوک دي ډېر رښتیني له الله نه له جهته دخبرې؟ (هیڅ څوک نشته !).

تفسیر: یعنې د قیامت راتګ او د ثواب او عقاب د ګردو مواعیدو پوره کېدل ټول حق او رښتیا دي، او په کې به له سره تخلف نه وي، نه ښایي چې دا خبرې دې معمولي او سرسري وګڼلی شي.

فَمَا لَكُمْ فِى الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا ؕ اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَهْدُوْا مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴿۸۸﴾

نو څه شوي دي پر تاسې په (معامله) د منافقانو کې چې دوه ډلې (شوي یئ)، او الله نسکور کړي دي دوی (رد کړي یې دي کفر ته) په سبب د هغو بدو اعمالو چې کړي دي دوی (لکه نفاق او له مشرکانو سره ملحق کېدل)، آیا اراده لرئ تاسې (ای مؤمنانو !) د دې چې په سمه صافه لاره برابر کړئ تاسې هغه څوک چې ګمراه کړي دي الله، او هر څوک چې ګمراه (یې) کړي الله؛ پس نه به مومې ته ده ته هیڅ لاره (د هدایت).

تفسیر: په دې منافقانو کې هغه خلق هم داخل دي، چې په ښکاره ډول سره یې ایمان نه وو راوړی، بلکه ظاهراً او باطناً په کفر باندې ټینګ ولاړ وو، لیکن د (محمد صلی الله علیه وسلم) او د مسلمانانو سره به یې په ښکاره ډول سره ناسته ولاړه او د مینې او محبت معامله درلوده (لرله)، او د دوی غرض دا وو چې که دمسلمانانو لښکر ځمونږ په قوم باندې یرغل (حمله) راوړي، نو ځمونږ مال او ځان به په دې چم (بهانه) او حیله سره محفوظ پاتې شي، هر کله چې مسلمانانو ته معلوم شو چې د دوی تګ او راتګ په دې مقصد دی، او مونږ سره د زړه مینه او محبت نه لري، نو ځینو مسلمانانو وویل چې: «ښایي له داسې شریرانو سره ناسته ولاړه پرېښودل شي، تر څو دوی له مونږ ځنې جلا شي»، او ځینو وویل چې: «ښایي له دوی سره ناسته ولاړه ولرو، ګوندې ایمان راوړي»، نو دا آیت نازل شو چې: «هدایت او ضلالت د الله تعالی په اختیار کې دی، تاسې د هغه په فکر کې له سره مه اوسئ !، ښایي له دې خلقو سره بالاتفاق همغسې معامله وکړل شي چې وروسته له دې راځي، او په خپلو منځونو کې دوه ډلې مه کېږئ».

وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا فَتَكُوْنُوْنَ سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ ۪ وَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ۙ﴿۸۹﴾

دوست ګڼي دوی (او غواړي دا مرتدان) که تاسې (هم) کافران شئ لکه چې کافران شوي دي (دوی) نو شئ به تاسې او دوی (ګرد سره) برابر (په کفر کې)، نو مه نیسئ تاسې (هیڅوک) له دوی نه دوستان تر څو چې (د زړه نه ایمان راوړي او) هجرت (هم) وکړي په لاره د الله کې، نو که وګرځېدل دوی (له لارې د الله) نو ونیسئ تاسې دوی (او بندیان یې کړئ) او ویې وژنئ تاسې دوی، هر چېرې چې وموندل تاسې دوی، او مه نیسئ تاسې (هیڅوک) له دوی څخه دوست او نه مددګار (په خپلو نورو دښمنانو باندې).

تفسیر: یعنې دا منافقان په کفر باندې داسې ټینګ ولاړ دي، چې پخپله خو ایمان نه راوړي، بلکه دا غواړي چې تاسې هم د هغوی په شان کافران او واړه سره برابر او یو شان شئ، نو اوس تاسې ته ښایي تر څو چې دوی ایمان رانه وړي، او خپل ګرد نفساني اغراض پرې نه ږدي، (او د حق او حقانیت په جانب په صدق او اخلاص سره روان نشي)، تر هغه پورې تاسې له دوی سره دوستي مه کوئ ! که دا خلق د زړه له کومې ایمان رانه وړي، او د الله جل جلاله په لاره کې هجرت ونه کړي، نو دوی بندیان کړئ ! او هر چېرې چې وموښئ ویې وژنئ ! او له دوی څنې په کلي ډول سره اجتناب وکړئ ! او ځانونه تري وژغورئ (بچ کړئ) او هیڅ راز تعلق او ارتباط له دوی سره مه لرئ !.

اِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ اِلٰى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ اَوْ جَآءُوْكُمْ حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ اَنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ اَوْ يُقَاتِلُوْا قَوْمَهُمْ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقٰتَلُوْكُمْ ۚ فَاِنِ اعْتَزَلُوْكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ وَاَلْقَوْا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ ۙ فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيْلًا ﴿۹۰﴾

مګر (مه وژنئ او مه بندي کوئ) هغه کسان چې وترې دوی ځانونه خپل (او امان وروړي) هغه قوم ته چې په منځ ستاسې او په منځ د دوی کې عهد، پیمان وي، یا راشي دوی تاسې ته حال دا چې تنګي شوي وي سینې (زړونه) د دوی، (او بد ګڼي دا خبره) چې جنګ وکړي له تاسې سره (د خپل قوم په مرسته)، یا جنګ وکړي دوی له قوم خپل سره (ستاسې په مرسته)، او که اراده کړي وای الله نو خامخا زورور کړي به یې وی دوی په تاسې نو خامخا به جنګېدل له تاسې سره، نو که څنګ وکړ دوی له تاسې، پس ونه کړ جنګ دوی له تاسې سره، او دروړاندې کړه دوی تاسې ته روغه (او امان وغواړي له تاسې نه)؛ نو نه ده ګرځولې الله تاسې ته پر دوی هیڅ لاره (د نیولو او وژلو او مال اخیستلو).

تفسیر: یعنې د دې ظاهري او باطني مینې او محبت له امله د دوی له قید او قتل څخه ځانونه مه ژغورئ (ساتئ) ! مګر په دوه حالتونو کې:

(۱): له هغو خلقو سره چې تاسې روغه کړي وي، له هغوی سره دوی هم معاهده او مصالحه ولري، نو دوی هم په صلح کې داخلیږي.

(۲): هغه کسان چې له جنګ څنې عاجزان شي، او له تاسې سره صلح وکړي، او د دې خبرې عهد او پیمان وکړي؛ چې نه به د خپل قوم په طرفداری له تاسې سره جنګ وکړي، او نه به له تاسې سره ملګري شي چې له خپله

قومه سره وجنګيږي، او پر دې عهد باندې ټينګ هم پاتې شو، نو له هسې خلقو سره مه جنګيږئ، او د دوی مصالحه منظور کړئ ! او دا د الله تعالى له احسانه وګڼئ، چې دوی ستاسې له جنګ څخه مخ اړوي، که الله تعالى اراده فرمايلي وی، نو دوی به يې پر تاسې باندې زړور، زورور او غالب ګرځولي وای.

سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّاْمَنُوْكُمْ وَ يَاْمَنُوْا قَوْمَهُمْ كُلَّمَا رُدُّوْٓا اِلَى الْفِتْنَةِ اُرْكِسُوْا فِيْهَا ۚ فَاِنْ لَّمْ يَعْتَزِلُوْكُمْ وَيُلْقُوْٓا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ ۭ وَاُولٰۗىِٕكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ۝۹۱

ژر به ومومئ تاسې يو بل (قوم) چې اراده به لري دوی د دې، چې په امان شي له تاسې (هم) او په امان شي له قومه خپله (هم)، هر کله چې وبلل شي دوی فتنې (فساد، کفر) ته نو نسکور پريوځي په فساد کې، بيا که ونشول په څنګ دوی له تاسې نه او دروړاندې يې نکړه تاسې ته روغه (او د امان طلب) او بند يې نه کړل لاسونه خپل (له جنګه) نو ونيسئ تاسې دوی (او بندي يې کړئ) او ووژنئ تاسې دوی په هر ځای کې چې ومومئ تاسې دوی، او دا ټول خلک ګرځولې دي مونږه تاسې لره پر دوی باندې برهان (دليل) ښکاره (د دوی په قتل، او بند چې د دوی د ټګۍ په سبب وررسيږي).

تفسير: يعنې ځينې خلق داسې هم دي چې له تاسې سره عهد کوي، چې نه به له تاسې سره جنګيږي، او نه به له خپله قومه سره، تر څو ستاسې او د خپل قوم له لوري يعنې د دواړو خواوو څخه مأمون او پاڼه شي، ليکن دوی په دې عهد باندې ټينګ نه پاتې کيږي، بلکه هر کله چې د خپل قوم بری او غلبه وګوري، له هغوی سره مرسته کوي، نو د هسې خلقو له تجاوز ځنې تاسې هم مه تېرېږئ ! ځکه چې ستاسې لاس ته خو صريح حجت راغلی، او دوی خپل عهد پخپله مات کړی دی.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا اِلَّا خَطَـــًٔا ۚ

او نه ښايي (يا نه دي روا) هيڅ مؤمن ته (يا نه دی د مؤمن کار) دا چې مړ کړي (بل) مؤمن مګر په خطا سره.

تفسير: په دې موقع کې د خطا د قتل احکام بيان فرمايي، او دا را څرګندوي چې د اسلامي کلمې د ويونکي وژل لويه ګناه ده، هو ! که چېرې په خطا سره ووژل شي؛ نو دا د مجبوری خبره ده، او د هغه احکام بيانيږي، او په دې ضمن کې د مجاهدينو فضيلت او (دار الکفر) څخه د (دار الاسلام) په لوري د هجرت کولو ضرورت او د سفر او د خوف د لمونځونو کيفيت هم بيانيږي.

فائده: د خطا قتل يعنې د مسلمان وژل په خطا سره څو صورتونه لري، لکه چې پر کوم مسلمان باندې د ښکار په ګمان په غلطه ګزار وکړي، او ويې وژني، يا ګولۍ يا غشی يا نور له ښکار ځنې وتلی، يا ختلی، پر کوم مسلمان باندې ولګيږي.

د خطا قتل يو صورت دا هم کېدی شي، چې يو مسلمان له (دار الاسلام) څخه د خپلو چارو لپاره (دار الحرب) ته لاړ شي، او د کافرانو په منځ کې وي، او پر هغه باندې کوم بل مسلمان د کافر ګمان وکړي، او په بې خبری سره يې ووژني، او دلته د همدې صورت بيانول مقصود دي، ځکه چې مجاهدينو ته على الأكثر داسې پېښې ورپېښې دي.

وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَّدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ إِلَّا أَن يَصَّدَّقُوا ۚ فَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۖ وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۖ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ ۖ تَوْبَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٩٢﴾

او هر څوک چې مړ کړي کوم مؤمن په خطا سره نو (شته پر قاتل) آزادول د غاړې (د مريي) مؤمن، او (بل) دیت دی سپارلی شوی اهل (وارثانو) د مقتول ته، مګر دا که معاف کړي دا (وارثان دغه قاتل)، پس که وو (دا مقتول) له (هسې) قومه چې دښمن وي تاسې لره، حال دا چې دا (مقتول) مؤمن وي؛ نو (شته پر قاتل تش) آزادول د غاړې (د مريي) مؤمن (بې له دیته)، او که وو دا مقتول له (هسې) قومه چې په منځ ستاسې او په منځ د هغه قوم کې عهد وي، نو (شته پر قاتل یو) دیت سپارلی شوی اهل (وارثانو) د مقتول ته، او (بل) آزادول د غاړې (د مريي) مؤمن دي، پس هر څوک چې ونه مومي (مريي یا مال چې پرې مريي واخلي)؛ نو (پرې) روژه نیول د دوو میاشتو دي پرله پسې (بلا انقطاع، لپاره د قبلولو د) توبې له (جانبه د) الله، او دی الله ښه عالم (په ټولو احوالو) لوی حکمت والا (چې هر کار په حکمت او مصلحت سره کوي).

تفسیر: په دې آیت کې د خطا قتل دوه جزاګانې ښوول شوي دي:

لومړی د مسلمان مريي آزادول، او که له قدرت یې پوره نه وي، نو دوې میاشتې متصلې روژه نیول دي، دا د الله تعالی په دربار کې کفاره او د قاتل د خطا تلافي ده.

دویم د هغه مقتول وارثانو ته د وینو بدل او دیت ورکول دي، چې دا د هغوی حق دی، او دغه دیت د دوی په معافولو سره معافېدی هم شي، مګر کفاره د چا په معافولو سره نه معافېږي.

او د خطا قتل درې صورتونه لري، ځکه هغه مسلمان چې په خطا سره وژل شوی دی، د ده ورثه به یا مسلمان وي، یا به کافر، که کافر وي، نو له ده سره به یې مصالحه وي، یا دښمني، په ړومبنیو دواړو صورتونو کې د مقتول وارثانو ته د وینې بدل ورکول لازمېږي، په دریېم صورت کې د وینې بدل نه لازمېږي، او کفاره به په درې واړو صورتونو کې لازم الأداء وي.

وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا ﴿٩٣﴾

او هر څوک چې مړ کړي کوم مؤمن په قصد سره (او د مسلمان دغه قتل روا هم وګڼي) نو جزا د ده دوزخ دی، (په داسې حال کې) چې تل به وي دی (دغه حلال ګڼونکی د قتل) په هغه «دوزخ» کې، او غضب (قهر) کړی دی الله په ده باندې، او لرې کړی دی (الله) دا (قاتل) له خپل رحمت څخه، او تیار کړی یې دی ده ته عذاب ډېر لوی.

تفسیر: یعنې که یو مسلمان بل مسلمان په غلطی سره نه، بلکه په قصد سره او سره له دې چې ښه یې پېژني چې مسلمان دی، خو وژني یې؛ نو د ده لپاره په آخرت کې جهنم او لعنت او لوی عذاب دی، او په کفاره سره ترې نه خلاصېږي، او دنیوي سزا یې همغه ده چې په (۲) جزء د البقره سورت په (۱۷۸) آیت (۲۲) رکوع کې تېره شوې ده، (چې هغه قصاص او کسات اخیستل دي).

فائده: د ګردو عالمانو په نزد (خلود في النار) هغه چا لره دی چې د مسلمان وژل حلال ګڼي، ځکه چې د هغه په کفر کې شک نشته، یا به له «خلود في النار» (تل تر تله) ځنې تر اوږدې مودې پورې په جهنم کې هستوګنه مراد وي، یا

خو به داسې قاتل مستحق د همداسې لويې سزا وي، وروسته الله تعالى پخپله مالک او مختار دى، او «خلود في النار» او «خروج عن النار» دواړه د ده کار دى، هر څه چې اراده يې وي؛ همغسې کوي، والله أعلم.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا ضَرَبْتُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَتَبَيَّنُواْ وَلَا تَقُولُواْ لِمَنْ أَلْقَىٰٓ إِلَيْكُمُ ٱلسَّلَٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا فَعِندَ ٱللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ

اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړى دى (اى مؤمنانو !) کله چې سفر کوئ تاسې په لاره د الله کې (جهاد ته) نو ښه تحقيق وکړئ، او مه وايئ تاسې هغه چا ته چې در اچوي تاسې ته سلام چې: نه يې ته مؤمن (او د اسلام کلمه دې له ويرې ويلې ده)، غواړئ تاسې مال (اسباب) د دې حيات دنيوي (ژوندون لږ خسيس، او که واقعي غنيمت غواړئ) پس دې الله سره غنيمتونه ډېر.

تفسير: رسول اکرم صلى الله عليه وسلم يو لښکر د غزا «جهاد» په غرض پر يوه قوم باندې ورواستاوه، په دې قوم کې يو سړى (مرداس نامه) مسلمان وو، چې له خپل مال اسباب او مواشي سره له کفارو ځنې جلا شوى او بېل ولاړ وو، کله چې دى له مسلمانانو سره مخ شو نو «السلام عليكم» يې وويل، مګر أسامه بن زيد رضي الله تعالى عنه داسې ګومان وکړ چې دا هم کافر دى، او د خپل مال او ځان د خلاصولو لپاره ځان مسلمان راڅرګندوي، نو هغه يې وواژه، او هغه مال او اسباب او مواشي يې ګرد ترېنه واخيستل.

(ځينې وايي: کله چې مقداد رضي الله تعالى عنه هغه سړى ووژاه، چې کلمه يې ويله، او د قتل سبب يې دا وباله، چې ده غوښتل چې په دې حيلې سره مال، عيال، او ځان خلاص کړي) نو دا آيت نازل شو، او مسلمانانو ته تنبيه او تاکيد وفرمايل شو، کله چې تاسې د «جهاد» لپاره سفر کوئ، له تحقيق څخه کار اخلئ !، او بې له فکره او پوهې څخه کوم کار مه کوئ ! او هغه څوک چې تاسې ته خپل ځان مسلمان درښکاره کړي، نو د ده د اسلام په منلو کې له سره انکار مه کوئ ! او له الله جل جلاله سره ډېر زيات غنائم شته، نو هسې حقير سامان ته له سره مه ګورئ !.

(وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې واقعې لـه اورېدلـو سخت خپه شو، او پـه هغې صحابي باندې په قهر شو، او د دغه بې موجبه قتل د سبب له اورېدلو څخه وروسته يې وفرمايل: «هلا شققت قلبه» ـ آيا د ده زړه دې څيرې کړى وو؟ چې ته وپوهېدې، چې دې رښتيا وايي که دروغ؟).

كَذَٰلِكَ كُنتُم مِّن قَبْلُ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوٓاْ

همداسې وئ تاسې (هم چې يواځې د اسلام په اظهار سره مأمون شوي وئ) پخوا له دې، نو فضل وکړ الله په تاسې، نو ښه تحقيق کوئ (او هيڅا ته تش په شبهه ضرر مه رسوئ !).

تفسير: تاسې پخوا له دې همداسې وئ، يعنې پخوا له اسلامه د دنيوي اغراضو له امله تاسې هم داسې په ناحقه وينې تويولې، ليکن اوس سره له اسلامه داسې له سره مه کوئ !، بلکه د هغه چا په وژلو کې هم احتياط کوئ، چې دهغه د مسلمان کېدو احتمال وي.

يا يې دا مطلب دى چې له دې نه پخوا د اسلام په شروع کې تاسې هم د کافرانو په ښارونو کې اوسېدئ، او تاسې د کوم مستقل حکومت او د کوم مستقل ځاى خاوندان نه وئ، نو لکه چې په هغه حالت کې هم ستاسې ظاهري اسلام اعتبار درلود او ستاسې د ځان او د مال حفاظت او رعايت شوى وو، نو همداسې په تاسې باندې هم لازم دي، چې د نورو ظاهري مسلمانانو د مال او د ځان رعايت او حفاظت وکړئ، او بې له تحقيقه څوک ونه وژنئ ! او ښايي چې له احتياط دقت او غور څخه کار واخلئ !.

إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿٩٤﴾

بېشكه الله دى په هغه څه چې تاسې (يې) كوئ ښه خبردار (نو پرې جزا دركوي).

تفسير: يعنې الله تعالى ستاسې په ظاهري اعمالو او زړونو په پټو خبرو باندې خبر دى، نو وروسته له دې كه څوك وژنئ محض (د الله تعالى) په حكم سره يې وژنئ ! او اصلا په هغه كې خپل هيڅ غرض ته مداخله مه وركوئ ! او دا مقصد دې كه كوم كافر د خپل مال او د ځان له ويرې ستاسې په مخ كې د اسلام اظهار وكړي، او تاسې تېر باسي، او په چم (بهانه) او فريب سره خپل ځان وژغوري (بچ كړي)، نو الله تعالى ته ټول شيان معلوم دي، او د هغه له عذاب څخه هيڅوك خپل ځان نشي ژغورلى، (ساتلى) مګر تاسې هغه ته هيڅ مه وايئ ! دا ستاسې كار نه دى، مونږ به له هغو سره ګورو.

لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۚ فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجٰهِدِينَ بِأَمْوٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِينَ دَرَجَةً ۚ وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنٰى ۚ وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجٰهِدِينَ عَلَى الْقٰعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٩٥﴾ دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً ۚ

نه دي برابر (الله ته) كيناستونكي (په كور كې) له مؤمنانو نه (له جهاده) - بې له خاوندانو د عذره- او جهاد كوونكي په لاره د الله كې (د دين د ترقي لپاره) په مالونو خپلو سره او ځانونو خپلو سره، فضيلت وركړى دى الله جهاد كوونكو ته په (لګولو د) مالونو خپلو سره، او (په جارولو د) ځانونو خپلو سره پر كيناستونكو باندې (له معذرته) په درجه كې، او له ټولو سره (كه مجاهد وي كه معذور ناست) وعده كړې ده الله د ښې جزا (جنت)، او فضيلت وركړى دى الله جهاد كوونكو ته پر كيناستونكو (له معذرته) په اجر عظيم ډېر لوى سره؛ چې مرتبې دي (لويې چې په عزت او كرامت كې سره متفاوتې دي) له (جانبه د) الله او مغفرت دى او رحمت دى.

تفسير: له دې نه پخوا يې مسلمانانو ته د خطا او ناپوهى د قتل په نسبت عتاب او تنبيه فرمايلې وه، نو هسې احتمال كېدى شو چې څوك به له زړه «جهاد» ونشي كولى، ځكه چې مجاهدينو ته داسې پېښې ډېرې ورپېښيږي، نو ځكه يې د مجاهدينو د فضيلت بيان وفرمايه، او دوى ته يې د «جهاد» رغبت وركړ.

ددې آيت خلاصه دا ده چې په ګوډو، شلو، رندو، ناروغو او معذورو خلقو باندې د «جهاد» حكم نشته، باقي په نورو ګردو مسلمانانو كې د مجاهدينو درجې داسې لويې دي، چې د «جهاد» تاركين له سره هغسې درجې نه لري، اګر كه هغوى هم جنتيان دي، له دې ځنې دا ښكاره شوه، چې «جهاد» فرض كفايي دى، او فرض العين نه دى، يعنې كه د مسلمانانو يو تعداد د جهاد لپاره كفايت وكړي، او په هغوى باندې ضرورت رفع شي، نو پر «جهاد» نه كوونكو باندې هيڅ يوه ګناه نه اوړي، او كه نه دوى ټول ګناهګاريږي.

وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٩٦﴾

او دى الله ښه ښښونكى (د خطياتو) ډېر رحم كوونكى.

تفسير: يعنې حق تعالى غفور او رحيم دى، د «جهاد» كوونكو په باره كې د اجر مغفرت او رحمت هغه وعدې چې شوي دي؛ خامخا پوره كوي، يا دا كه د مجاهدينو له خوا كوم مسلمان سړى په ناپوهى سره ووژل شو، نو دوى به حق تعالى معافوي، نو د دې اندېښنې له امله تاسې له جهاد څخه مه ستنېږئ !.

إِنَّ الَّذِينَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنتُمْ ۖ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ ۖ قَالُوٓا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَٰسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا ۚ فَأُولٰٓئِكَ مَأْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾ إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَٰنِ لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ﴿٩٨﴾ فَأُولٰٓئِكَ عَسَى اللَّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٩٩﴾

بېشكه هغه كسان چې وفات كړي وي دوى لره ملائكو (د مرګ) په داسې حال كې چې وي دوى ظلم كوونكي په ځانونو خپلو، وايي ورته (ملائكې): په كوم حال كې وئ تاسې (په خپلو دينى چارو كې؟) وايي دوى چې: وو مونږ ضعيفان كړى شوي په ځمكه كې (د كفارو په لاس، بيا ملائكې ورته) وايي چې: آيا نه وه ځمكه د الله ارته (پراخه)؛ پس چې هجرت كړى واى تاسې په دې (ځمكه كې)، نو دا (تاركان د هجرت) ځاى د دوى دوزخ دى، او ناكاره ځاى د ورتلو دى (دا دوزخ). مګر (نه عذابيږي) هغه ځوك چې په رښتيا سره ضعيفان دي له نارينه وو او له ښځو او له ماشومانو چې نه توانيږي (او نه لري هيڅ) حيله (تدبير) او نه پيژني دوى لاره (د چېرې تللو له دار الحربه). پس دا عاجزان (چې دي) ښايي چې الله (يعنې هيله ده له الله چې) عفوه وكړي (ګناهونو د) دوى نه، او دى الله ښه عفوه كوونكى (د معذورانو) ښه بخښونكى (د خطياتو).

تفسير: دآيت خلاصه داده «هغه كسان چې پر خپلو ځانونو باندې ظلم كوي، يعنې له كافرانو سره يو ځاى اوسيږي، او هجرت نه كوي، نو پرښتې به له دوى څخه د ځنكدن په وخت كې پوښتنې كوي، چې په كوم دين وئ تاسې؟» دوى به وايي چې: «مونږ مسلمانان يو، مګر په دنيا كې مو د ضعف او كمزورى له امله د دين خبرې نشوې كولى»، نو بيا پرښتې ورته ووايي چې: «د الله تعالى ځمكه خو ډېره پراخه او ارته وه، او ستاسې له واكه (اختياره) هم دا پوره وه، چې له هغه ځايه مو هجرت كړى واى»، نو د هسې خلقو ځاى دوزخ دى.

هو ! هغه كسان چې په رښتيا سره ضعيفان دي، لكه ښځې او ماشومان چې نه هجرت كولى شي، او نه هغوى ته د هجرت تدبير او لاره معلومه وي، نو دوى د معافى وړ دي.

فائده: له دې څخه راښكاره شوه: په هر هغه ملك كې چې مسلمانان په ښكاره ډول سره شرعي ژوندون نشي كولى، له هغه ځايه هجرت كول پر دوى باندې فرض دي، پرته له هغه كسانو چې بيخي بې وزله او معذوران دي، نور هيڅوا ته اجازه نشته، چې هلته پاتې شي.

وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرٰغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ۚ وَمَن يَخْرُجْ مِنۢ بَيْتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ عَلَى اللَّهِ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٠٠﴾

او هر څوك چې وطن پريږدي او (او لاړ شي) په لاره د الله كې، نو وبه مومي (دى) په ځمكه كې (په مقابل د هجرت كې) د آرامى ځايونه ډېر، او پراخي (د روزى)، او هر څوك چې ووځي له كوره خپله په داسې حال كې چې هجرت كوونكى وي طرف د الله او رسول ته (جهاد، علم، او نورو مشروعو امورو ته) بيا وومومي (لاندې كړي) ده لره مرګ (بهر له كوره)؛ نو په تحقيق واقع شو اجر (ثواب) د ده پر الله باندې، او دى الله ښه بخښونكى (د خطياتو) ډېر رحم كوونكى.

تفسير: په دې آيت کې د هجرت ترغيب دی، او مهاجرينو ته تسلي او ډاډينه ورکوله شي، يعنې هر هغه څوک چې خاص د الله تعالى لپاره هجرت کوي، او خپل وطن (هيواد) پرېږدي (او د جهاد ياعلم يا حج يا اطاعت يا قناعت يا زهد يا حلال او طيب رزق لپاره سفر کوي) نو د ده د هستوګنې لپاره به ډېر ځايونه پيدا کيږي، او د ده په روزی او خوړو کې به ډېره پراخي راشي، نو د هجرت کولو په وخت کې له هسې خبرو ځنې مه ويرېږئ ! چې مونږ به چېرې اوسيږو؟ او څه شی به خورو؟ او له دې ځنې هم اندېښنه مه کړئ ! نه چې په لاره کې مړه شو، او نه چې د دې لوري او هغه لوري له دواړو څخه بې برخې پاتې شو، ځکه چې په هسې صورت کې هم د هجرت پوره ثواب در رسيږي، او موت خو پوره په خپله نېټه راځي، او له خپل مقرر وخت څخه وړاندې او وروسته کيږي نه.

وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلٰوةِ ۖ إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ إِنَّ الْكٰفِرِينَ كَانُوا لَكُمْ عَدُوًّا مُبِينًا ﴿١٠١﴾

او کله چې سفر کوئ تاسې په ځمکه (په ملکونو) کې پس نشته پر تاسې هيڅ ګناه (وبال) په دې کې چې څه لنډوالی وکړئ تاسې له لمانځه (له رباعي څخه، نه له ثلاثي او ثنايي نه) که ويرېدئ تاسې له دې چې په فتنه کې به واچوي (ضرر به ورسوي) تاسې ته هغه کسان چې کافران شوي دي، بېشکه چې کافران دي تاسې لره دښمنان ښکاره.

تفسير: يعنې کله چې د «جهاد» او د نورو احکامو لپاره سفر کوئ او له کافرانو ځنې (چې ستاسې صريح دښمنان دي) ددې خبرې وېره وي، چې دوی به فرصت وموميِ او تاسې به وربږوي (تکليف کړي)؛ نو خپل لمونځونه لنډ کړئ ! يعنې هر هغه لمونځ چې تاسې په حضر کې څلور رکعته کاوه، او س هغه دوه رکعته وکړئ !.

فائده: د کافرانو د ضرر رسولو وېره په هغه وخت کې موجوده وه؛ چې دا حکم نازل شو، کله چې دا وېره له منځه ورکه شوه، نو بيا هم ځمونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم تل په سفرونو کې خپل (رباعي) لمونځونه قصر کول، او اصحابو ته يې هم د قصر په نسبت تأکيد فرمايه، اوس هم په مسافرۍ کې د قصر کولو حکم دی، دا ذکر شوې وېره وي که نه وي، ځکه چې دا د الله تعالى فضل او مهرباني ده، او ښايي چې په ډېره خوښۍ سره ومنله شي، لکه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حديث کې هم داسې ارشاد شوی دی.

وَإِذَا كُنْتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ فَلْتَقُمْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا أَسْلِحَتَهُمْ ۖ فَإِذَا سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا مِنْ وَرَائِكُمْ وَلْتَأْتِ طَائِفَةٌ أُخْرٰى لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ ۗ وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُمْ مَيْلَةً وَاحِدَةً ۚ

او کله چې اوسې ته (ای محمده !) په دوې کې (د دښمنانو د وېرې په وخت کې)؛ پس اقامت وکړې ته دوی ته د لمانځه (نو لښکر خپل دوه طائفې کړه) پس ودې دريږي يوه طائفه له دوی څخه له تاسره، او وادې خلي دا (لمونځ کوونکي) وسلې خپلې، نو کله چې سجده وکړه (دوی د دوه رکعتي په اول رکعت کې او د درې رکعتي او څلور رکعتي په دويم رکعت کې) پس شي دې دوی له وروسته ستاسې، او رادې شي طائفه بله چې نه وي کړی لمونځ دوی؛ پس لمونځ دې وکړي دوی له تا سره، او وادې خلي دوی (هم اسباب د) بيداری خپلې (او د ځان د مدافعې له دښمنه) او وسلې خپلې، خوښوي هغه کسان چې کافران شوي دي (دا) که په يو ډول (طريقه)

سره غافلان شئ تاسې له وسلو خپلو څخه، او له اسبابونو خپلو څخه، څو حمله وکړي دوی پر تاسې باندې حمله یوه.

تفسیر: پخوا د سفر د لمانځه بیان وو، اوس د خوف د لمانځه بیان دی، یعنې د کافرانو د لښکرو په مقابله کې دې د مسلمانانو لښکر دوه برخې شي !، یوه برخه دې د دښمن مخ ته ودریږي ! او بله برخه دې له امام سره نیم لمونځ اداء کړي !، او بیا دې دوی د دښمن مخې ته لاړ شي !، او هغه بله برخه خلق دې راشي !، او له امام سره دې هغه پاتې لمونځ اداء کړي !، او د امام له سلام ګرځولو څخه وروسته دې دواړه ډلې د خپلو لمونځونو پاتې برخې یوائې یوائې ادا کړي !، که د ماښام لمونځ وي، لومړۍ ډله دې دوه رکعته او دویمه ډله دې یو رکعت لمونځ له امام سره وکړي !، او په داسې حالت کې د لمانځه په منځ کې تګ راتګ معاف دی، او د توري، ځغرې، ډال، او د جنګ د نورو سامانونو د ځان سره لرل هم د رسول الله مبارک صلی الله علیه وسلم ارشاد دی، او دا د دې لپاره چې کفارو ته کومه موقع په لاس ور نه شي، او یو ځلې ګرد سره په ګډه حمله او یرغل را نه وړي.

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّنْ مَّطَرٍ أَوْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى أَنْ تَضَعُوٓا أَسْلِحَتَكُمْ ۚ وَخُذُوا حِذْرَكُمْ ۗ

او نشته هیڅ ګناه (وبال) پر تاسې باندې که چېرې وي په تاسې باندې څه ضرر (تکلیف) له بارانه یا وئ تاسې ناجوړه چې کېږدئ تاسې وسلې خپلې، او ونیسئ (په هر حال کې اسباب) د بیداری خپلې (د خپل ځان د مدافعې لپاره له دښمنه).

تفسیر: که د باران یا رنځورۍ یا د کمزورۍ له سببه د وسلو اخیستل او چلول مشکل وي، نو په داسې حالت کې د هغو د کېښودلو اجازه شته، مګر د خپل ځان ساتنه دې کوي، مثلا ځغره، ډال (توره، تومانچه، ټوپک، ماشینګن او نور) دې له ځانه سره ولري.

فائده: که د دښمنانو له وېرې دومره مهلت او فرصت په لاس ورنشي، چې «صلاة الخوف» (د وېرې لمونځ) له پاس ترتیب سره سم اداء کړی شي، نو د جماعت لمونځ دې موقوف کړي، او هر مجاهد دې یوائې یوائې لمونځ وکړي !، که له سپرلۍ (سورلی) ځنې هم د ښکته کېدلو موقع ور میسره نشي، همغسې دې سپور (سور) په اشارې سره لمونځ وکړي !، او که دښمنان ورته نږدې وي، او په هیڅ ډول لمانځه ته وزګار نه وي، نو دلته دې لمونځ مؤخر او بیا دې قضایي راوړي.

إِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْكٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ۝

بېشکه الله تیار کړی دی لپاره د کافرانو عذاب سپکوونکی.

تفسیر: یعنې د الله تعالی له حکم سره سم له تدبیر، احتیاط، او اهتمام څخه کار و اخلئ !، او د الله تعالی فضل ته هیلمند او امیدوار اوسئ !، چې دی به کافران ستاسې په لاس سپک، خوار، او ذلیل کړي، نو له کافرانو ځنې مه ویرېږئ !.

فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ قِيٰمًا وَّقُعُودًا وَّعَلٰى جُنُوبِكُمْ ۚ

بیا کله چې اداء کړئ تاسې لمونځ نو یادوئ تاسې الله (یا) پس کله چې اراده وکړئ تاسې د ګزارلو د لمانځه؛ نو یادوئ تاسې الله په ولاړې، او په ناستې، او پر اړخونو خپلو، (یا) په ولاړې (که روغ یئ) او په ناستې او پر اړخو خپلو (که ناروغه یئ).

تفسير: يعني كه د خوف په وخت کې د تنګۍ او بې اطمينانۍ له امله په لمانځه کې کوم ډول قصور راشي، نو د «صلاة الخوف» له تمامېدلو څخه وروسته په هر وخت او هر حالت کې (ولاړ يئ که ناست يا ملاست) الله تعالى ياد کړئ !، تر دې چې عين د مقاتلې او هجوم او يرغل (حمله) په وخت کې هم، ځکه چې د وخت تعيين او د نورو قيودو رعايت کول د لمانځه په حالت کې وو، چې د زورورو دښمنانو د مقابلې په وخت کې د هغو د اداء کولو له امله تنګي، او بې اطمينانې او د نورو پېښو احتمال کېدی شي، پرته له لمانځه څخه په هر حالت کې بې د و خت له تعيينه هم تاسې الله تعالى يادوئ !، او نه ښايي چې په هيڅ حالت کې د الله له ياده غافل شئ !.

عبد الله بن عباس رضي الله تعالى عنه د دې آيت په آخر کې فرمايلي دي: «هغه څوک چې عقل او حواس يې د کومې پېښې له امله له کاره لويدلې او معذور شوي وي، نو هغه معذور ګڼل کيږی، که نه هيڅوک په هيڅ وخت کې د پاک الله له يادولو ځنې نشي معذور کېدی».

فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ ۚ إِنَّ الصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَٰبًا مَّوْقُوتًا ﴿١٠٣﴾

پس کله چې په آرام شوئ؛ نو قائموئ تاسې (سم اداء کړئ سره له ټولو حقوقو) لمونځ !، بېشکه چې لمونځ دی پر مؤمنانو باندې فرض کړی شوی په معلومو اوقاتو کې.

تفسير: يعني کله چې ذکر شوی خوف لرې او زړونه مو ډاډه شي، نو هر لمونځ چې کوئ ښايي چې د ارکانو له تعديل، د شرايطو له رعايت، او د آدابو له محافظې او اطمينان سره يې اداء کړئ !، لکه چې د امنيت په حالت کې اداء کولی شي، د زائدو حرکاتو اجازه چې درکړی شوې ده، هغه د خوف په لمانځه پورې مخصوصه ده، بېشکه چې لمونځ په خپل معين او ټاکلي وخت کې فرض شوی دی، نو ښايي په سفر او حضر، په اطمينان او خوف، او په هر حالت کې پخپل ټاکلي وخت کې دې خامخا ادا کړ شي !، داسې نه چې هر کله مو زړه وشي؛ اداء يې کړئ !.

وَلَا تَهِنُوا فِي ابْتِغَاءِ الْقَوْمِ ۖ إِن تَكُونُوا تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ ۖ وَتَرْجُونَ مِنَ اللَّهِ مَا لَا يَرْجُونَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٠٤﴾

او سستي (بې همتي ای مؤمنانو !) مه کوئ ! په طلب (تعقيب او جنګ) د قوم د کفارو کې، که يئ تاسې چې دردمن کېږئ !، نو بېشکه دوی (هم) دردمن کيږي همغسې چې تاسې دردمن کيږئ، او هيله لرئ تاسې له (جانبه د) الله د هغه (ثواب) چې نه لري دوی (کفار) (يې) او دی الله (په هر شي) ښه عالم ښه حکمت والا، (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: يعني د کفارو په پلټنه (لټونه) او د دوی په تعقيب کې له همت ځنې کار واخلئ ! او څه کوتاهي او سستي پکې مه کوئ، که تاسې ته د دوی له جنګه کوم زخم او درد دررسېدلی دی؛ نو هغوی هم په همداسې تکاليفو کې آخته، او په دې کې له تاسو سره شريکان دي، او وروسته له دې نه هم تاسې له الله جل جلاله څخه د هسې شيانو اميدوار يئ !، چې دوی له سره په هغو کې څه برخه نه لري، يعني په دنيا کې په کفارو باندې بري، او په آخرت کې لوی ثواب.

الله تعالى ته ستاسې ټول مصالح او اعمال ډېر ښه معلوم دي، او د الله تعالى د هر حکم (چې په هغه کې ستاسې ديني او دنيوي ډېر مصالح او خورا حکمتونه دي) امتثال او منل غنيمت او لوی نعمت وګڼئ.

إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَٰبَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ ۚ وَلَا تَكُن لِّلْخَائِنِينَ خَصِيمًا ﴿١٠٥﴾

بېشکه مونږ نازل کړی (لېږلی) مو دی تاته (ای محمده !) کتاب (قرآن) په حقه سره لپاره د دې

له خپلو اصحابو سره جرګه او مشوره وکړه، د رسول الله مبارک رایه داسې وه، چې پخپله په مدینې منورې کې اسلامي مجاهدین پاتې شي، ځکه چې په هم هغه ځای کې هم د مکې معظمې له کفارو سره په ډېر آسانۍ سره غزا کېدی شي،او د دې فکر تایید د دوی له یوه خوب څخه هم شوی وو.

دا لمړی ځل وو چې له رئیس المنافقین (عبد الله بن أُبيّ) ځنې هم رایه واخیسته شوه، چې د ده رایه هم د رسول الله مبارک له رایې سره موافقه وه، مګر ځینې هغه پر جوش مسلمانان چې د بدر په غزا کې نه وو شامل شوي، او د غزا او شهادت په درجې موندلو پسې مضطرب وو، په دې باندې ټینګ شول چې مونږ ته ښایي چې له ښاره د باندې ووځو، او هلته له کفارو سره مقابله وکړو، تر څو دښمن د ضعف او د وېرې ګمان پر مونږ باندې ونه کړي، د آراوو اکثریت په وتلو باندې غوټه شو.

په همدې شور ماشور کې رسول الله صلی الله علیه وسلم کورته ولاړ او ځغره یې واغوسته، او خپله وسله یې واخیسته، او د غزا په نیت د باندې ووت، د پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم په غیاب کې ځینو کسانو ته هسې یو خیال پیدا شو چې «مونږ ولې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خیاله مخالف دوی ته عرض وکړ، چې د غزا لپاره د باندې ووځي !» نو ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له کور ځنې د راوتلو په وخت کې د دوی په لوړ حضور کې عرض وشو: «یا رسول الله ! کله چې ستاسې پاکه اراده پر دې باندې ده چې هم دلته مدافعه وکړو، نو رائځ چې هم دلته سنګر ونیسو»، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «یو نبي ته دا خبره مناسبه نه ده، کله چې دې ځغره واغوندي، او وسله په لاس واخلي، او غزا ته خپله ملا وترې، بیا بې له قتاله وسله له ځانه لرې کړي».

کله چې دوی له مدینې منورې ځنې د باندې تشریف یووړ، نږدې زر تنه مجاهدین له دوی سره وو، مګر عبد الله بن أُبَيّ نږدې سره له (۳۰۰) سړیو (چې ځینې مسلمانان هم په کې وو) له لارې بېرته وګرځېدل، او ویل به یې: «کله چې ده زما په خبره باندې غوږ کښېښود، او زما په مشوره یې عمل ونه کړ، نو مونږ هم دې ته اړ نه یو چې وجنګېږو، او خامخا خپل ځانونه مړه کړو»، ځینو مشرانو (ابن أُبَيّ) وپوهاوه چې «راځه ! چې غزا ته ولاړ شو ! چېرې ځې» خو (ابن أبي) ونه منله، او ټول سره ستانه (واپس) شول.

په پای کې رسول الله مبارک سره له (۷۰۰) مجاهدینو د جنګ ډګر (میدان) ته ورسېدل، او رسول الله مبارک بالذات د لښکرو صفونه وترل، او هر یو ټولی یې په مناسب ځای کې وټاکه (مقرر کړه)، او هغوی ته یې خپل وظیفې وروښودلې، او امر یې وفرمایه: «تر څو چې زه د جنګ حکم در نه کړم ؛ تاسې مه جنګېږئ !، او په خپلو ځایونو کې منتظر اوسئ !».

په دې منځ کې د عبد الله بن أُبَی د جلا والي او د تحریک په اثر د دوو قبیلو بنو حارثه او بنو سلمه په زړونو کې څه کمزوري ورپیدا شوه، او د مسلمانانو د لږ تعداد له کبله یې زړونه سره ورېږدېدل، او داسې خیال ورپیدا شو چې د جنګ له ډګره ځان بېرته وکاږي، مګر «حق جل وعلی شأنه » د دوی لاس ونیوه، او له دوی سره یې مرسته وکړه، او زړونه یې ټینګ کړل، او دا یې ور په زړه کړ، چې د مسلمانانو اعتماد او ډاډینه ښایي یواځې په الله تعالی باندې وي، او ښایي تل تر تله د الله تعالی په اعانت او نصرت باندې متوکلان وي، تعداد، سامان، لوازم اوتجهیزات او نور دومره اهمیت نه لري، کله چې الله تعالی څوک غواړي چې مظفر او منصور وګرځوي؛ نو له ګرد ساز او سامان ځنې یې مستغني او بې پروا کوي، او غیبي تایید «فتح مبین» ور په برخه کوي، لکه چې د «بدر» په غزا کې داسې وشو.

نو مسلمانانو ته ښایي چې تل له الله تعالی ځنې وویرېږي، څو د الله تعالی له جانبه دوی ته لا انعام او احسان او د ډېر شکر کولو موقع په لاس ورشي، د «بدر» دغزا پوره تفصیل د «الأنفال» په سورت کې راځي، د هغه په فوائدو کې دې وکتل شي.

تنبیه: له دوو فرقو څخه مراد «بنو حارثه» او «بنو سلمه» دي، اګر که په دې آیت کې دوی ته نرۍ شانته «اخطار» ورکړی شوی دی، مګر ددې قبیلې ځینو مشرانو به فرمایل چې: «د دې آیت په نه نازلېدو مونږ نه وو خوښ، بلکه پر نزول یې خوښ یو» ځکه چې ﴿وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا﴾ زېرې د ده له وېرې څخه لوی دی».

إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿١٢٤﴾

(یاد کړه ای محمده !) کله چې ویل تا مؤمنانو ته چې: آیا کافي (بس) به نه شي ستاسې دا چې مرسته (مدد) وکړي له تاسې سره رب ستاسې په درې زرو له پرښتو چې رالېږلی شوي وي (له آسمانه).

تفسیر: یعنې چې له آسمانه خاص د همدې کار لپاره نازل کړی شوي وي، د اکثرو علماوو په نزد دا راجح دی، چې دا واقعه د «بدر» د غزا ده، کله چې مسلمانانو ته د کفارو د جمعیت او کثرت او اسلحې او تجهیزاتو له لیدلو څخه اندېښنې او تشویش پیدا شو، نو رسول الله مبارک د دوی د تسلی لپاره داسې وفرمایل، او داسې وشوه، لکه چې د پرښتو مرسته (مدد) له اسمانه ورسېده، د «الأنفال» په سورت کې ددې مفصل بیان راځي.

بَلَىٰ إِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُسَوِّمِينَ ﴿١٢٥﴾

هو ! (درې زره بس کیږي) ! که تاسې صبر وکړئ او وویرېږئ (له الله) او راشي مشرکان پر تاسې؛ په دغه ساعت (بې له ټاله یو ناڅاپه) مرسته (مدد) به وکړي له تاسې سره رب ستاسې په پنځو زرو سره له پرښتو چې علامې لرونکې به وي.

تفسیر: څرنګه چې په «بدر» کې د کفارو شمېر یو زر تنه وو، لومړی یې د هغه په تناسب د یو زر پرښتو وعده وفرمایله، لکه چې د «الأنفال» په سورت کې راځي، بیا یې د مسلمانانو د وېرې د لرې کولو لپاره د دوی شمېر درې چنده وفرمایه، ځکه چې د کفارو شمېر د مسلمانانو د شمېر په نسبت درې چنده وو.

وروسته له دې نه د (شَعبي) له روایت سره سم کله چې مسلمانانو ته دا خبره ورسېده چې (کرز بن جابر) د لوی کومک سره د مشرکانو په مرسته راځي، نو یو نوې اضطراب پیدا شو، په دې وخت کې الله تعالی د زیات تسکین لپاره وعده وفرمایله : که له صبره او تقوی څخه کار واخلئ، نو مونږ به پنځه زره پرښتې ستاسې د مرستې لپاره درولېږو، که د مشرکانو مرسته ناڅاپه ورورسېده، نو بیا هم څه اندېښنه مه کوئ ! ځکه چې الله تعالی سم د لاسه په عین وخت کې بیا تاسې سره مرسته کوي.

ښایي چې د پنځو زرو شمېر ددې له امله ویلی شوي وي، چې لښکر په پنځو برخو ویشلی کیږي، نو هرې برخې ته یو یو زر مرسته ورکوله کېده، څرنګه چې د (کرز بن جابر) مرسته ونه رسېده، نو ځکه ځینې وایي چې: د پنځو زرو وعده هم پوره نه کړي شوه، ولې چې هغه وعده په ﴿وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا﴾ پورې معلقه وه.

د ځینو قول داسې دی چې پنځه زره پرښتې نازلې شوې. والله أعلم.

وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِ ۚ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾

او نه ده ګرځولې الله دا مرسته مګر لپاره د خوشالتیا ستاسې، او لپاره د دې چې تسکین وموميزړونه ستاسې په دې سره، او نه ده مرسته مګر له (جانبه د) الله چې ښه غالب قوي دی (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

تفسير: يعني دا ګرد غيبي سامان په فوق العاده ډول سره د ظاهري اسبابو په صورت يواځې دې لپاره مهيأ کړی شوی دی، چې ستاسې له زړونو ځنې وېره او اضطراب لري شي، سکون او اطمينان ستاسې په برخه شي، که نه د الله تعالى مرسته په هسې شيانو باندې محدود او مقصور نه دی، او نه له اسبابو او سامان سره څه اړه او تعلق لري، که الله تعالى اراده وفرمايي، نو يواځې پخپل قوي قدرت سره بې د پرښتو له اشتراکه هم تاسې بريالي کوي، يا بې ستاسې له جهاده او ربړ ګاللو (تکليف تېرولو) څخه کافران نا مراد او زيانمن کوي، يا له يوې پرښتې ځنې همدا کار اخلي، چې اوس يې له (۵۰۰۰) ځنې اخلي.

لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنقَلِبُوا۟ خَآئِبِينَ ﴿١٢٧﴾

(الله کومک درکړ) څکه چې هلاک کړي ځينې له هغو کسانو چې کافران شوي دي، يا يې ذليل (خواروزار) کړي، پس بېرته ولاړ شي (په ماتې سره) محروم.

تفسير: يعني د پرښتو له لېږلو ځنې ستاسې امداد مقصود وو، چې ستاسې زړونه ډاډه او کلک شي ! او د الله تعالى له جانبه پوره بشارت او اطمينان ومومئ ! او په سکون سره په ډېره بهادرۍ د دښمن مقابله وکړئ ! چې له هغه ځنې دا غرض وو چې دا د کفارو زور مات شي، او د دوی مټونه پرې شي او څه نومیالي (نامور) ووژلی شي، او څه ترې په ذلت سره بنديان شي.

لَيْسَ لَكَ مِنَ ٱلْأَمْرِ شَىْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿١٢٨﴾

نشته تا لره له امره هيڅ شی (بلکه الله اختيار لري دهر شي) يا به رجوع وکړي (الله په قبلولو د توبې سره) په دوی باندې، يا به عذابوي (الله) دوی، پس بېشکه دوی ظالمان دي.

تفسير: د (احد) په غزا کې (۷۰) تنه لوی اصحابان شهيدان شوي وو، چې په هغوی کې ځمونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم تره سيد الشهداء حمزه رضي الله تعالى عنه هم وو، مشرکانو په ډېره وحشيانه ډول سره شهدا مثله کړي هم وو، يعني پوزې، غوږونه، او نور اعضاء يې ترې پرې او ګډې يې ورځيرې کړې وې، تر دې چې د حمزه رضي الله تعالى عنه زړه او ځيګر هم هندې (د أبو سفيان ښځې) وايستل، او ويې ژوول، ددې غزا مفصله واقعه به وروسته راشي، لنډه يې دا چې نبي کريم «عليه افضل الصلاة والتسليم» ته په دغې غزا کې د سترګو د بد نظر ضرر ورسېد، او له مخنيو ځلور غاښونو ځنې لاندې ښی غاښ په شهادت ورسېد، د (خول) کړۍ يې ماتې شوې، او دده مبارک په مخ کې ننوتې، او د ده مبارک تندی زخمي شو، او دده مبارک وجود په وينو تک سور شو، په همدې وخت کې د ده مبارک پښه هم وښوييده، او پر ځمکه ولوېد، کافرانو دا مشهوره کړه (ان محمدا قد قتل)، «بېشکه محمد ووژل شو»، د دې خبرې له اورېدلو ځنې ګرد مسلمانان وارخطا شول، په دغه وخت کې د ده له مبارکې خولې ځنې دا جمله ووته: «هغه قوم به څنګه فلاح وموميِ چې د خپل هغه رسول مخ يې په وينو سور (ژوبل) کړ، چې دوی د الله جل جلاله په لوري بولي؟»، هو ! دمشرکانو د وحشيانه شدائدو او ظلمونو دليدلو په اثر دوی متأثر شول، او د کفارو څو نومیالیو (نومورو) متجاوزينو ته يې د ښېرا کولو اراده وفرمايله.

څه موده وروسته الله جل جلاله دوی ګرد سره په خپلو کړو پښيمانه کړل، او د اسلام په سر تېرو لښکرو کې شامل شول، الغرض په ﴿لَيْسَ لَكَ مِنَ ٱلْأَمْرِ شَىْءٌ﴾ کې يې محمد صلى الله عليه وسلم ته تنبيه وفرمايله، چې بنده لره اختيار نشته او نه د هغه علم محيط دی، د هر شي اراده چې الله تعالى وفرمايي هم هغه کوي، که څه هم کافران ستاسې دښمنان دي، او پر تاسې ظلم کوي، خو که الله جل جلاله اراده وفرمايي هغوی ته هدايت کوي، او که يې اراده وشي عذاب ورکوي، نو ته له خپله ځانه هغوی ته ښېرا مه کوه !.

په ځينو روايتونو کې د دې آيتونو په شان نزول کې بل رنګ معلوميږي چې دلته د هغوی د تفصيل د ليکلو ځای نشته، په «فتح الباري» کې څو ځايه پر هغه باندې پوره بحث شوی دی، فليراجع.

وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٢٩﴾

او (خاص) الله لره دي هر هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هر څه چې په ځمکه کې دي (سره له آسمانونو او ځمکې ملکا خلقًا او عبيدًا)، بخښنه کوي الله هر هغه چاته چې اراده وفرمايي د بخښنې يې، او په عذابوي الله هر چا ته چې اراده وفرمايي د عذاب يې، او الله ښه بخښوونکی (د خطياتو) ډېر رحم کوونکی دی.

يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَأْكُلُوا الرِّبٰوٓا

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) مه خورئ سود !

أَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً ۖ

په دې حال چې دوه چنده پر دوه چنده وي.

تفسير: د دې مطلب داسې نه دی چې لږ سود اخلئ ! خو دوه چنده او درې چنده يې مه اخلئ !؛ خبره داده چې د جاهليت په زمانه کې به خلقو سود او سوايي اخيستل، لکه چې نن ورځې په عامو او اکثرو بينکونو کې رواج دی، همدا صورت يې په ﴿أَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً﴾ سره تعبير وفرمايه، يعنې اول خو سود مطلقا حرام او قبيح دی، او بيا دا صورت خو يې ډېر زيات شنيع او بد دی، لکه چې څوک ووايي: «خانه ! په مسجد کې ښکنځلې مه کوه !» نو ددې خبرې مطلب داسې نه کيږي، چې له مسجد د باندې د ښکنځلو اجازه شته، بلکه داسې الفاظ د زيات تقبيح او تشنيع په موقع کې ويل کيږي.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿١٣٠﴾

او وويرېږئ له الله څخه ښايي چې په مراد به ورسيږئ (خلاص به شئ تاسې د الله له قهره).

تفسير: يعنې په سود خوړلو کې هيڅ نيکي نشته، بلکه ښېګڼه (ښه والی) په دې کې ده، چې له الله جل جلاله ځنې وويرېږئ ! او د سود خوراک پرېږدئ.

وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْٓ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿١٣١﴾

او وويرېږئ ! له اوره چې تيار کړی شوی دی لپاره د کافرانو.

تفسير: يعنې سود خور دوزخ ته ځي، چې هغه اصلا د کفارو لپاره جوړ کړی شوی دی.

وَأَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿١٣٢﴾

او حکم ومنئ د الله او (حکم ومنئ) د رسول (د الله)، لپاره د دې چې پر تاسې رحم وکړی شي.

تفسير: د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حکم منل هم په حقيقت کې د الله جل جلاله حکم منل دي، ځکه چې همده حکم راکړی دی، چې مونږ د ده د رسول الله صلى الله عليه وسلم حکم هم ومنو، او د هغه پوره اطاعت وکړو،

وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا بَعِيْدًا ﴿۱۱۶﴾

او هر څوک چې شریک ونیسي (کوم شی) له الله سره؛ نو په تحقیق ګمراه شوی دی په ګمراهۍ لرې (له حقه).

تفسیر: یعنې له هدایت څخه لرې ولوېد، ځکه چې له الله جل جلاله ځنې په صراحت سره منحرف شو، او د پاک الله په مقابل کې یې خپل معبود بل څوک وګرځاوه، او د شیطان مطیع شو، او د الله تعالی له اطاعت او د هغه له رحمت ځنې بېخي مستغني شو، نو هر څوک چې دومره لرې ولوېږي، هغه به په څه ډول سره د الله تعالی د رحمت او د ده د مغفرت مستحق شي ! بلکه د داسې سړي مغفرت ښایي له حکمت ځنې مخالف دی.

اِنْ يَّدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلَّآ اِنٰثًا ۚ وَاِنْ يَّدْعُوْنَ اِلَّا شَيْطٰنًا مَّرِيْدًا ﴿۱۱۷﴾ لَّعَنَهُ اللّٰهُ ۘ

نه بولي دوی (عبادت نه کوي دا مشرکان) بې الله نه مګر د ښځو، او نه بولي (عبادت نه کوي دوی) مګر د شیطان سرکښ چې لرې کړی دی الله (له رحمته خپله).

تفسیر: یعنې هغه شیان چې دغو مشرکانو له الله تعالی ځنې پرته خپل معبودان ګرځولي دي، په هغو کې هغه بتان هم شامل دي، چې دوی پر هغو باندې د ښځو غوندې نومونه ایښي دي، لکه «عزی، مناة، نائلة، او نور» او که حقیقت ته وګورئ؛ نو دغه مشرکان د ملعون او سرکښ شیطان عبادت کوي، او همدې شیطان دا مشرکان تېرایستلي دي، او مشرکان په دې بت پرستۍ کې د شیطان امر منې، او د هغه زیاته خوښي ځان ته حاصلوي، په دې سره د مشرکانو انتهایي ضلالت او جهالت ښکارول مقصود دي، وګورئ !.

اول خو له دې څخه بل لوی ضلالت شته؟ چې بې له الله جل جلاله بل څوک خپل معبود وګرځوي؟، نو بیا چې معبود یې ګرځولی دی، څه شی دی؟ تیرې؛ چې په هغو کې هیڅ قسم حس او حرکت هم نشته، او د ښځو په نومونو سره هم موسوم دي، او د چا په وینا او ښوونه؟ ، د هغه شیطان په لمسونه چې د پاک الله له درباره مردود رټلی او ملعون شوی دی، نو آیا د دې ضلالت او جهالت بل کوم نظیر چېرې پیدا کېدی شي؟ او خورا (ډېر) لوی احمق هم دا خبره منلی شي؟

وَّقَالَ لَاَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ﴿۱۱۸﴾

او وویل (شیطان) چې خامخا به ونیسمه خامخا زه (ای الله !) له بندګانو ستا نه یوه برخه مقرره کړی شوې.

تفسیر: یعنې کله چې شیطان د سجدې په نه کولو سره ملعون او مردود شو، نو په هغه وخت کې یې وویل: «زه خو تباه او فنا شوم، مګر ستا له بندګانو د آدم علیه السلام له اولادې ځنې به زه یو معلوم مقدار او لویه برخه لمسوم او خطا باسم، او له خپله ځانه سره به یې جهنم ته بیایم»، لکه چې په «الحجر» او په «بني اسرائیل» او نورو سورتونو کې مذکور دي، مطلب یې دا دی چې شیطان له متمرد او ملعون کېدلو څخه علاوه خو له اولې ورځې راهیسې د ګردو بني آدمانو دښمن او بدې غوښتونکی دی، او خپله دښمني یې په صاف ډول سره ښکاره کړېده.

د مقرر حصې اخیستلو یوه معنی دا هم ده، چې ستا بندګان به پخپلو مالونو کې ما لره هم یوه برخه ټاکي (مقرروي)، لکه چې خلق بتانو، جنیاتو، او پرته له الله نورو ته نذرونه او نیازونه ورکوي.

وَّلَاُضِلَّنَّهُمْ وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ اٰذَانَ الْاَنْعَامِ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ ؕ

او زه به هرو مرو (لازماً) ګمراه کړم دوی، او لازماً زه به په باطلو امیدو کې خامخا واچوم دوی، او لازماً زه به امر وکړم خامخا دوی ته چې پس لازماً ځیروي به دوی خامخا غوږونه د چارپایانو، او زه لازماً امر وکړم دوی ته؛ پس لازما تغییر به ورکړي دوی خامخا پیدایښت د الله ته.

تفسیر: یعنې هغه کسان چې زما په برخه کې رائي؛ دوی له حقې لارې ځنې ګمراه کوم، او د دوی په زړونو کې به د دنیوي ژوندون او د فاني دنیا مینه اچوم، او دوی به له قیامت، حساب او کتاب، او نورو اخروي امورو څخه غافل کوم، او دا خبره به دوی ته ورښیم چې د ځناورانو غوږونه ځیري کړي، او د بتانو په نامه یې خوشې کړي، او د الله تعالی پیدا کړي صورتونه او د هغو مقررې کړې څېرې واړوي.

فائده: د کافرانو دستور وو چې د غوا خوسی، د مېړې (ګډې) وُړی، او د اوښ جونګی به یې د بت په نامه کول، او د هغو غوږونه به یې ځیرول، او په غوږونو کې به یې نښې اچولې، بیا به یې سرخوشي پرښودل.

د صورت بدلول لکه خصي کول، یا په ستنو سره د بدن سوري کول، او په هغه سره شنه یا بل ډول خالونه اینبوول، یا زرغون داغ ورکول، یا د وړوکي پر سر باندې په کوم اسم او رسم سره کمخی او بل رنګ ویښتان د بل چا په نامه پرښوول دي (یا په منهیاتو کې د خپلو اندامونو خوځول، یا د حلالو تحریم یا د حرامو تحلیل او نور) چې په مونږ مسلمانان باندې لازم دي؛ چې له دغو ګردو کارونو ځنې خپل ځانونه وژغورو (وساتو)، د ږیرې خرییل هم په همدې تغییر کې داخل دي، او د الله تعالی هر څومره احکام چې دي؛ په هر یوه کې تغییر کول ډېره سخته خبره ده، هر هغه شی چې الله تعالی حلال کړی دی، د هغه حرامول، یا یې حرام ګڼل؛ انسان له اسلام ځنې باسي.

نو هر څوک چې په داسې خبرو کې مبتلا وي؛ په یاد دې ولري، چې د هغه شیطان په همغه ټاکلې (مقرره) برخه کې داخل دی، چې ذکر یې اوس تېر شو.

وَمَنْ يَّتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ وَلِيًّا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۹﴾ يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيْهِمْ ؕ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۱۲۰﴾ اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؗ وَلَا يَجِدُوْنَ عَنْهَا مَحِيْصًا ﴿۱۲۱﴾

او هر څوک چې ونیسي شیطان دوست بې له الله؛ نو په تحقیق زیان یې وکړ زیان ښکاره. وعده کوي (شیطان) له دوی سره، او په باطلو امیدونو کې غورځوي دوی، او نه کوي وعده له دوی سره شیطان مګر په فریب، دغه (تابعان د شیطان) ځای د دوی جهنم (دوزخ) دی، او نه به مومي دوی له دې دوزخه هیڅ ځای د تېښتې (او خلاصي).

تفسیر: یعنې کله چې د شیطان خباثت او شرارت، او د ده د عدوات کیفیت ښه معلوم شو؛ نو اوس په دې کې هیڅ شک پاتې نه شو، هر هغه څوک چې له خپل حقیقي معبود څخه منحرف او د شیطان موافقت کوي، په سختو نقصانونو کې لویږي، د شیطان ټولې وعدې او امیدونه محض فریب دی، او نتیجه یې داسې کیږي چې د دوی د ګردو د هستوګنې ځای دوزخ دی، او له دوزخ څخه د دوی د وتلو هیڅ یو امکان نشته.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا ﴿۱۲۲﴾

او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه) نو ژر به داخل کړو مونږ دوی په جنتونو کې چې بهیږي له لاندې (د مانیو او ونو) د دوی ویالې، چې همېشه به وي دوی په دغو (جنتونو) کې تل تر تله، وعده کړېده الله حقه (وعده)، او څوک دی زیات صادق (رښتین) له الله نه په خبره (او وعده) کې.

تفسیر: یعنې هغه خلق چې د شیطان له فساد ځنې محفوظ دي، او د الله تعالی له ارشاده سره سم یې ایمان راوړی دی، او ښه عملونه یې کړي دي، دوی به تل په داسې جنتونو او باغونو کې ښه ژوندون کوي، چې د تل لپاره په کې پسرلی وي، او دا د الله تعالی وعده ده، چې له دې څخه د بل هیچا وعده رښتیا کېدی نشي، نو بیا د هسې رښتیا او پخې وعدې پرېښودل، او د شیطان په دروغو خبرو باندې خطا وتل، څومره ګمراهي او په څه اندازه ځانته ضرر رسول دي؟

لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ ؕ مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ ۙ وَلَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۲۳﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا ﴿۱۲۴﴾

نه دی (ثواب او عقاب مرتب) پر امیدونو (ارزوګانو) ستاسې او پر امیدونو (ارزوګانو) د اهل کتابو، (بلکه پر ښو عملونو پورې مربوط دی)، هر څوک چې وکړي ناکاره کار؛ نو جزا به ورکړل شي ده ته په هغه سره، او نه به مومي دغه (ګناهګار) د ځان لپاره بې له الله نه هیڅ ولي (دوست)، او نه مددګار (چې دی له عذابه خلاص کړي). او هر څوک چې عمل وکړي له (ځینو) نېکو (کارونو) له نارینه وو او له ښځو، حال دا چې دی مؤمن وي؛ نو دغه (نېکوکاران) داخل به شي په جنت کې، او ظلم به ونشي په دوی (په اندازه) د نقیر (هم، یعنې پر دوی به هیڅ شي کې هیڅ ظلم نه کیږي).

تفسیر: د کتابیانو یعنې د یهودانو او نصرانیانو دا خیال وو، چې مونږ د الله تعالی خاص بندګان یو، او پر هغو ګناهونو چې نور خلق نیول کیږي؛ مونږ نه نیول کیږو، انبیاء علیهم السلام ځمونږ حمایت کوي، او مونږ ته نجات راکوي، او د اهل الاسلام نادانانو به هم داسې خیال کولو، نو الله جل جلاله وفرمایل: «چې نجات او ثواب د چا په امید او خیال موقوف او منحصر نه دی، هر څوک چې بد کوي بد به مومي، او تکلیف به ګالي هر څوک چې وي، د الله تعالی له حساب، کتاب، او عذاب ځنې ځان نشي ژغورلی، او نه یې څوک حمایت او طرفداري کولی شي، پاک الله چې هر څوک ونیسي؛ همغه یې خوشې کوي او نجات ورکوي، لکه چې په همدې لړه او خسیسه دنیا کې الله تعالی رنځ او درد د چا په برخه کړي، بې له الله جل جلاله بل هیڅوک هغه نشي ترې لرې کولی، هر هغه څوک چې ایمان ولري، او نیک عمل وکړي؛ نو هسې کسان به په جنت کې داخلیږي، او د خپلو نېکیو پوره ثواب به مومي.

خلاصه داچې د ثواب او عقاب تعلق له عقائدو او اعمالو سره دی، د چا په امید او ارزو سره هیڅ نشي کېدی، نو داسې امیدونه په لغته ووهئ !، او په نېکو کارونو کې زیار (محنت) وباسئ !، او همت وکړئ !.

(نقیر هغه داغ ته وایي چې د خرما د زړي په شا طرف باندې وي).

وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا مِّمَّنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَّاتَّبَعَ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ؕ وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا ﴿۱۲۵﴾

او څوک دي ډېر غوره له جهته د دين له هغه چا چې تابع يې ګرځولی وي مخ خپل (يا ځان خپل خاص حکم د) الله ته، حال دا چې دی نېکوکار وي، او متابعت يې کړی وي د ملت (دين) د ابراهيم، حال دا چې دی حنيف وو (په حق دين کلک ولاړ وو او له باطل ځنې بيزار وو)، او نيولی دی الله ابراهيم دوست (خاص خپل).

تفسير: پخوا معلومه شوه چې د الله تعالی په نزد يواځې اعتقاد او اعمال اعتبار لري، او خوشې چې هيلې (بهانې)، اميدونه، او ارزوګانې هيڅ يوه نتيجه نه ورکوي، اهل کتابو او نورو ګردو لره همدا کليه قاعده مقرره ده، چې په دې کې اهل د اسلام ته اشاره ده، يعنې د صحابه وو رضي الله تعالی عنهم تعريف او فضيلت او د اهل کتابو مذمت او خرابي ده، اوس په ښکاره ډول سره فرمايي چې په ديانت کې له داسې سړي سره څوک مقابله کولی شي، چې د الله تعالی له حکمونو ځنې غاړه نه غړوي، او په نېکو کارونو پسې له زړه ګرځي؟ او په ربښتيا سره د ابراهيم عليه السلام د ملت او دين ښه متابعت کوي، چې هغه له ګردو ځنې ځان شکولی، او له پاک الله سره يې خپل تعلق او ارتباط ټينګ کړی وو، او پاک الله هم هغه په خپلې دوستۍ او خلت سره غوره کړی وو، ښکاره ده چې دا درې واړه صفتونه په صحابه وو (رضوان الله تعالی عليهم أجمعين) کې د کمال په توګه موجود وو، نه په کتابيانو کې، نو په دې قيودو سره د اهل کتاب هغه ارزو او هيله چې پخوا تېره شوه، بېخي باطله او چټې ثابته شوه.

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطًا ﴿۱۲۶﴾

او (خاص) الله لره دي هر هغه شيان چې په آسمانونو کې دي، او هر هغه شيان چې په ځمکه کې دي (سره له آسمانونو او ځمکې ملکاً خلقاً وعبيداً)، او دی الله پر هر شي ښه احاطه کوونکی (په خپل علم او قدرت سره).

تفسير: يعنې په ځمکه او آسمان کې څه شيان چې دي سره له اسمانونو او ځمکو د هغو ګردو خالق الله تعالی دی، او دغه ګرد شيان د پاک الله بندګان، مخلوق، مملوک او د ده جل وعلا شأنه په واک (اختيار) او قبضه کې دي، او پخپل رحمت او حکمت سره له هر چا سره هره معامله چې اراده وفرمايي؛ همغه کوي، پاک الله هيچا ته څه اړه او احتياج نه لري، هيڅوک دې په دې سره ډاډه نشي، او نه دې تېروځي چې زه يې دوست او خليل يم، او د ټولو خلقو د خير او شر د ګردو اعمالو په جزا او سزا کې دې هيڅوک هيڅ يو تردد او اندېښنه ونه کړي !.

وَيَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ ؕ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِيْهِنَّ ۙ وَمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ فِيْ يَتٰمَى النِّسَآءِ الّٰتِيْ لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُوْنَ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الْوِلْدَانِ ۙ وَاَنْ تَقُوْمُوْا لِلْيَتٰمٰى بِالْقِسْطِ ؕ

طلب د فتوی کوي دوی له تانه په باب (د ميراث د) ښځو کې، ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې الله فتوی (حکم) درکوي تاسې ته به (باب د) دوی کې، او (بل د) هغه شي (حکم درکوي) چې لوستلی شي پر تاسې په کتاب (قرآن) کې په (باب د) يتيمانو ښځو کې، هغه چې نه ورکوئ تاسې دوی ته هغه (ميراث) چې فرض کړی شوی دی دوی ته، او مينه کوئ تاسې دې کار ته

چې نکاح کړئ تاسې دوی، او (حکم درکوي الله په حق) د ضعیفانو کې له وړو هلکانو نه، او (بل دا حکم درکوي) چې ودرېږئ تاسې په حق د یتیمانو کې په عدل (انصاف) سره (په میراث او مهر کې).

تفسیر: ددې سورت په اول کې یې د یتیمانو د حق د اداء کولو تاکید فرمایلی وو، د یتیمو جونو اولیاء لکه د اکا ځوی که پوه شي، چې زه د دې پوره حق اداء کولی نشم، نو دی دې خپل ځان ته نه نکاح کوي !، بلکه بل چاته دې په نکاح ورکړي !، او دی دې د هغې حامي او کومکي (مددګار) شي.

خو له تجربې ځنې مسلمانانو ته دا ور معلومه شوه، چې په ځینو ځایونو کې د جونو په حق کې هم دا بهتر وو؛ چې د خپل «ولي» په نکاح کې راشي، او «ولي» د دې رعایت داسې کوي؛ چې بل څوک یې نه کوي، نو له دې امله مسلمانانو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د داسې نکاح اجازه وغوښتله، د دې استدعا په نسبت دا آیت نازل شو، او دوی ته اجازه ورکړه شوه، او ویې فرمایل: «هغه ممانعت چې پخوا له دې نه شوی وو؛ هغه خاص په هغه صورت کې وو چې د دوی حق په پوره ډول سره اداء نه کړئ، او د یتیمانو د حق د اداء کولو تاکید یې فرمایلی وو، او که څوک له یتیم سره د ښه سلوک او ښېګڼې په اراده نکاح ترې، نو اجازه ده».

فائده: په عربو کې داسې عام دستور وو، چې ښځې، وړوکي او یتیمان به یې له ځینو حقوقو ځنې بې برخې او محروم ګرځول، او دوی ته به یې میراث نه ورکاوه، او ویل به یې چې میراث د هغه چا حق دی، چې له دښمنانو سره وجنګیږي، او له یتیمو جونو سره د دوی اولیاوو نکاح ترله، او د دوی په نفقه، مهر، کسوت او نورو کې یې کمی کولو، او په مالونو کې به یې بېځایه تصرفات کول.

خلاصه داده: د الله تعالی حکم واجب الاتباع دی، او د الله تعالی د حکم په مقابل کې د هیڅا عقل، فکر، ارزو، دستور، حکم، قیاس، بیخي د اعتبار وړ او قابل کېدی نشي، او د الله تعالی دحکم په مقابل کې د بل چا د خبرو اورېدل او عمل پرې کول او د الله تعالی د حکم پرېښودل صریح کفر او ګمراهي ده، او دا مضمون یې په بلیغو تاکیداتو سره ظاهر او ښکاره کړ، اوس د همغو پخوانیو آیتونو په حواله د ښځو او د یتیمو جونو نکاح په متعلق ځینې نورې مسئلې هم رابنیي، څو چې له دې تاکیداتو څخه وروسته د ښځو د حقونو په ورکولو کې د هیڅا هیڅ یوه خبره پاتې نشي.

وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِهٖ عَلِيْمًا ﴿۱۲۷﴾

او هر څه چې کوئ تاسې له خیر (نېکی) پس بېشکه چې الله دی پر هغه ښه عالم (او هغه هم لکه نور اشیاء ورمعلوم دي).

تفسیر: یعنې الله تعالی ته ستاسې یوه یوه ذره نیکي هم معلومه ده، نو د یتیمانو او ښځو په حق کې هره ښېګڼه (ښه کار) چې وکړئ ! د هغې ثواب هرو مرو (خامخا) مومئ !.

وَاِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْۢ بَعْلِهَا نُشُوْزًا اَوْ اِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يُّصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا ۭ وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ۭ

او که کومه ښځه ویرېده له مېړه خپله د سرکشۍ (د حقوقو په منع او د صحبت په ترک)، یا د مخ ګرځولو (له مجلسه او خبرو)؛ پس نشته ګناه پر دغو دواړو په دې کې چې صلح وکړي دوی پخپلو منځونو کې یو شان صلح، او صلح کول خیر (ډېر غوره) دي.

تفسير: يعني كه كومه ښځه د خپل مېړه زړه له خپله ځانه خپه ووينې، او د هغه د خوښۍ او متوجه كولو لامله له خپل مهر يا نفقې او نورو ځنې لږ څه ورپرېږدي، او هغه له خپله ځان خوښ كړي؛ نو په دې مصالحت كې د هيڅا په ذمه ګناه نشته، د زوجينو په منځ كې مصالحت او موافقه ډېره ښه خبره ده، هو ! بې له سببه د ښځو خپه كول او بې له رضا د دوی په مال كې تصرف كول ګناه ده.

ځينو مفسرينو د صلحې صورت داسې ليكلی دی: «ښځه مهر يا نفقه مېړه (خاوند) ته ورپرېږدي، كُلاً يا بعضاً، يا خپل وار خپلې بنې ته خوشې كړي، او مېړه (خاوند) دې طلاق نه وركوي ! او تري ځنګ (ډډه) دې هم نه كوي !، او خبرې اترې دې ورسره كوي».

وَأُحْضِرَتِ الْأَنْفُسُ الشُّحَّ ۚ

او حاضر كړی شوی دی (ايښودل شوی دی) په زړونو كې حرص (او د زړونو په منځ كې بخيلي موجوده ده).

تفسير: يعني د هر چا په زړه كې د خپل ځان نفع او د مال حرص او بخيلي شته، نو كه ښځه نظر كوم مصلحت ته خپل مېړه (خاوند) ته كومه نفع ورسوي، نو نارينه تري خوښيږي، «او كه نارينه خپلې ښځې ته كومه نفع ورسوي؛ نو دا ښځه تري خوشاليږي، ليكن د حرص، بخيلي، اعراض، او بې پروايي له كبله مېړه (خاوند) ته غاړه نه ږدي، او له خپلو حقوقو لږ څه هم نه ورته تېريږي، او مېړه (خاوند) هم د ښځې ښه ساتلو او د دې د لږو حقوقو اداء كولو ته نه تياريږي».

وَإِنْ تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٢٩﴾

او كه نيكي وكړئ تاسې ! (له خپلو ښځو سره) او پرهېز وكړئ تاسې (له نشوزه او خصومته) نو بېشكه چې الله دی په هغه شي چې كوئ يې تاسې (له محبته او خصومته) ښه خبردار (نو ستاسې د عمل سره به سمه جزا دركړي).

تفسير: يعني كه له ښځو سره ښه سلوك وكړئ ! او له بد سلوكۍ او جنګونو او جنجالونو ځانونه وژغورئ؛ نو الله تعالى ستاسې له ګردو خبرو ځنې خبردار دی، د نيكۍ ثواب به خامخا تاسې ته دركوي، ښكاره ده چې په دې صورت كې اعراض او خپګان نه پېښيږي، او د رضا كولو او له خپل حق ځنې د تېرېدلو ضرورت نه پاتې كيږي.

وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ ۚ

او له سره به طاقت رانه وړئ تاسې (ای د ډېرو ښځو مېړونو !) د دې چې عدل وكړئ (او برابروالی وساتئ په هر شي كې) په ما بين د ښځو خپلو كې اګر كه ډېر حرص وكړئ تاسې (عدل ته)، نو مخ مه ګرځوئ تاسې (له يوې ښځې) په كامل مخ ګرځولو سره؛ چې پس پرېږدئ دا (ښځه) په شان د ځوړندې شوې؛ (چې نه يې طلاقوئ، او نه د مېړه توب معامله ورسره كوئ).

تفسير: يعني كه څو ښځې ستاسې په نكاح كې وي، - او دغه ستاسې له لاسه نه كيږي؛ چې د زړه مينه او په هر امر كې بيخي مساوات او برابري رعايت له هرې يوې سره وكړئ -؛ نو داسې ظلم او تېرۍ هم مه كړئ ! چې بيخي يوه لوري ته وښويږئ او ميلان وكړئ، او هغه بله ښځه همغسې په منځ كې ځوړنده پرېږدئ، نه يې هوسا (خوشاله) او آرامه ساتئ، او نه يې بيخي جلا (جدا) كوئ چې له بل چا سره خپله نكاح وترې.

وَإِنْ تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٢٩﴾

او که اصلاح وکړئ تاسې (له خپلو ښځو سره) او پرهېز وکړئ (له ظلمه) نو بېشکه چې الله دی ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډېر رحم کوونکی.

تفسیر: یعنې که د اصلاح او د مصالحت معامله وکړئ، او حتی المقدور له ظلم، تعدي، او حق تلفی څخه خپل ځانونه وژغورئ؛ نو الله تعالی ښېونکی دی.

وَإِنْ يَتَفَرَّقَا يُغْنِ اللَّهُ كُلًّا مِّن سَعَتِهِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ وَاسِعًا حَكِيمًا ﴿١٣٠﴾

او که سره بېل شول دواړه (زوجین په طلاق سره) نو بې پروا به کاندي الله هر یو له دوی نه په خپله پراخه مهربانی، او دی الله پراخ (رحمت، فضل، او احسان د ده) تدبیر والا (چې هر کار له حکمت او مصلحت سره سم کوي).

تفسیر: یعنې که زوجین ښېلوالی غوره کړي، او دطلاق وار ورسېږي، نو هیڅ حرج نشته، الله تعالی د هر یوه کار جوړوونکی دی، او د ګردو حاجاتو پوره کوونکی دی، په دې کې دې لوري ته اشاره ده، چې ښایي ښځه په راحت او هوسایی (آرام) کې وساتله شي !، او ایذاء او ربړ (تکلیف) ورته ونه رسوئ ! او که داسې ښه ژوندون یې له لاسه پوره نه وي، نو بیا ښه ده چې طلاق ورکړي، والله أعلم.

وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ اتَّقُوا اللَّهَ ۚ وَإِن تَكْفُرُوا فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ غَنِيًّا حَمِيدًا ﴿١٣١﴾
وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ﴿١٣٢﴾

او (خاص) الله لره دي هر هغه شیان چې په اسمانونو کې دي، او هر هغه شیان چې په ځمکه کې دي (سره د اسمانو او ځمکې ملکاً، خلقاً، او عبیداً)، او خامخا په تحقیق حکم کړی دی مونږ هغو کسانو ته چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب پخوا له تاسې، او (هم خاص حکم کړی دی مونږ) تاسې ته د دې چې وویرېږئ ! له الله، او که تاسې کافران شئ؛ نو بېشکه (خاص) الله لره دي هر هغه شیان چې په اسمانونو کې دي، او هر هغه شیان چې په ځمکه کې دي (سره د اسمانو او ځمکې ملکاً، خلقاً، او عبیداً)، او دی الله ښه غني (ډېر بې پروا له هر چا او هر شي)، ښه ستایلی شوی (په ډېرو ښو صفاتو سره). او (خاص) الله لره دي هر هغه شیان چې په اسمانونو کې دي، او هر هغه شیان چې په ځمکه کې دي (سره د اسمانو او ځمکې ملکاً، خلقاً، او عبیداً)، او بس دی الله وکیل (ښه کار جوړوونکی).

تفسیر: د دې دواړو آیتونو خلاصه دا ده چې: تاسې او له تاسې څخه ګردو پخوانیو خلقو ته دا حکم اورول شوی دی، چې له الله تعالی څخه وویرېږئ !، او د ده له احکامو ځنې نافرماني مه کوئ ! او تر غاړه مه غړوئ !، نو که اوس څوک د الله جل جلاله حکم نه مني؛ نو الله جل جلاله د ګردو شیانو مالک دی، او د هیڅا پروا نه لري، یعنې دی خپل ځان ته نقصان رسوي، او پاک الله ته هیڅ یو تاوان نشي رسولی، که د الله تعالی احکام ومنئ؛ نو په دې باور ولرئ ! چې الله جل وعلا شأنُه چې د ګردو شیانو مالک دی، ستاسې ګرد کارونه درجوړوي.

درې ځلې یې وفرمایل: هر هغه شیان چې په ګردو اسمانونو او ځمکه کې دي؛ د الله تعالی دي:

له (۱) نه پراخي او وسعت مقصود دی، یعنې د هغه په دربار کې د هیڅ یو شي کمی نشته.

له (۲) نه د بې نیازی او بې پروایی بیان مقصود دی، یعنې که تاسې منکران یئ، الله (جل جلاله) د هیڅا پروا نه لري.

له (۳) نه د رحمت او د کار جوړولو اظهار دی، په دې شرط سره چې تاسې پرهېزګاران او متقیان اوسئ !.

إِنْ يَّشَأْ يُذْهِبْكُمْ أَيُّهَا النَّاسُ وَيَأْتِ بِآخَرِينَ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ قَدِيرًا ﴿١٣٣﴾

که اراده وفرمایي (الله د بیولو او مړه کولو ستاسې) نو بو به ځي(فنا به کړي) تاسې (په موت سره) ای خلقو ! او رابه ولي نور خلق (په پیدا کولو سره)، او دی الله پر دغه (اعدام او ایجاد هم) ښه قادر (او پوره قدرت لري).

تفسیر: یعنې الله تعالی پر دې باندې هم قادر دی، چې تاسی ګرد سره فناء کړي، او د دنیا له مخې مو لرې کړي، او ستاسې په ځای نور مطیعان او حکم منونکي خلق پیدا کړي.

له دې ځنې هم د الله تعالی د بې پروایی او د استغناء اظهار ډېر ښه راڅرګندیږي، او غاړه غړوونکو ته هم پوره تهدید او تخویف وشو.

مَّن كَانَ يُرِيدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا فَعِندَ اللَّهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۗ

هر څوک چې وي چې وغواړي ثواب (بدل) د دې دنیا؛ نو دی په نزد د الله ثواب (بدل) د دنیا او (ثواب) د آخرت.

تفسیر: یعنې که تاسې د الله تعالی د احکامو متابعت وکړئ؛ نو تاسې ته د دنیا او آخرت د دواړو ثوابونه او اجرونه درکول کیږي، نو بیا یواځې په دنیا پسې ګرځېدل او د الله تعالی د احکامو د نه منلو په اثر له آخرت (بلکه له دنیا) څخه هم ځان محروم او بې برخې ګرځول لویه نادانې ده.

وَكَانَ اللَّهُ سَمِيعًا بَصِيرًا ﴿١٣٤﴾

او دی الله ښه اوربدونکی (د ټولو اقوالو) ښه لیدونکی.

تفسیر: یعنې الله تعالی ستاسې ګرد کارونه وینې، او ستاسې ګردې خبرې اوري، هر شی چې غواړئ، که اراده وفرمایي؛ نو همغه به درکوي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ ۚ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو !) اوسئ تاسې تل محکم ولاړ ! په انصاف سره شاهدان (خاص) لپاره د الله، اګر که وي (شاهدي) پر نفسونو ستاسې (چې زیان مو وي په کې) یا (په) والدینو (مور او پلار ستاسې) یا (په) اقاربو (خپلوانو ستاسې).

تفسیر: یعنې ښایي چې په ربنتیا او د الله تعالی له حکم سره سمه شاهدي ورکړئ ! اګر که په دې حقه شاهدي کې ستاسې یا ستاسې د کوم عزیز او قریب خپلوان زیان هم وي، هر هغه خبره چې ربنتیا وي، ښایي چې په ښکاره ډول سره اظهار کړل شي، او د دنیوي نفعې لپاره اخروي نقصان وانخلئ.

إِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيْرًا فَاللّٰهُ أَوْلٰى بِهِمَا ۣ فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰٓى أَنْ تَعْدِلُوْا ۚ

که وي دغه (مشهود علیه او مشهود له) غني (شتمن) یا فقیر (محتاج) نو الله ډېر خیر غوښتونکی دی پر دوی (له تاسې نه)، نو مه کوئ تاسې متابعت د هوا (د نفساني خواهشونو) چې انصاف وکړئ تاسې (او له حقه مه تېرېږئ ! یا چې عدول وکړئ له حقه).

تفسیر: یعنې په رښتیا شاهدی کې د خپلې کومې نفساني غوښتنې متابعت ونه کړئ ! چې د شتمنو رعایت وکړئ، او پر محتاجو باندې ورحمېږئ، او حقه خبره پټه کړئ، هر هغه شی چې حق وي؛ همغه ووایئ، الله تعالی له تاسې ځنې زیات د هغوی د خیر او ښېګڼې اراده لري، او د دوی په مصالحو باندې ښه پوه او خبردار دی، او د ده په دربار کې د هیڅ شي کمی نشته.

وَإِنْ تَلْوٗٓا أَوْ تُعْرِضُوْا فَإِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿١٣٥﴾

که واړوئ تاسې (خپلې ژبې) یا څنګ وکړئ تاسې (له شاهدی نه) نو بېشکه الله دی پر هغه شي چې کوئ (یې) تاسې ښه خبردار (نو سم د عمل سره به سمه جزا درکړي).

تفسیر: د ژبې اړول دا دي چې رښتیا خبره ووایئ، مګر خو په پېچلو او تاو کړیو الفاظو، چې د هغو له اوربدلو ځنې اوریدونکي په شبهه کې لویږي، یعنې صافه صافه او رښتیا خبره نه وایئ. او ځان ترې ژغورل (بچ کول) او په څنګ (ډډه) کېدل دا دي چې: پوره خبره ونه وایئ، بلکه هغه خبرې چې په کار راځي هغه پرېږدئ، نو په دې دواړو صورتونو کې یې اګر که دروغ نه دي ویلي، مګر د حق د نه ښکاره کولو له امله ګناهګاریږي، او ښایي چې هرو مرو شاهدي پوره او په رښتیا الفاظو ورکړه شي !، (یا دا چې د شهادت له اداء څخه مخ واړوئ، او پټ یې کړئ).

يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْ نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْٓ أَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ ۭ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ﴿١٣٦﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو !) ثابت او خالص کړئ تاسې ایمان خپل پر الله او رسول د ده (محمد) او په هغه کتاب (قرآن) چې ټوټه ټوټه یې نازل کړی دی پر رسول خپل (محمد) باندې، او پر هغه کتاب چې ټول یې یو ځل نازل کړی دی پخوا (له قرآن په نورو رسولانو)، او هر څوک چې کافر شي پر الله، او پر ملائکو (پرښتو) د دغه (الله) او پر کتابونو د دغه (الله) او پر رسولانو د دغه (الله) او پر ورځې آخرې (چې قیامت دی)؛ نو په تحقیق ګمراه شوي دي په ګمراهی لرې سره (له حقه).

تفسیر: یعنې هر څوک چې ایمان راوړي نو ضرور دي چې د الله تعالی پر ګردو احکامو او ارشاداتو د زړه له کومې یقین ولري، که د الله تعالی له احکامو او ارشاداتو ځنې پر یوه حکم هم یقین ونه کړي؛ نو هغه مسلمان نه دی، او تش د ژبې وینا او د خولې اظهار هیڅ کوم اعتبار نه لري.

إِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيْلًا ﴿١٣٧﴾

بېشکه هغه کسان (یعنې یهودان) چې ایمان یې راوړی دی (په موسی) بیا کافران شوي دي (په عبادت د ځُسي سره)، بیا یې ایمان راوړی دی (په توبه ایستلو سره)، بیا کافران شوي دي (په

انجيل او عيسى باندې) بيا زيات شوي له جهته د كفره (په محمد باندې) نه دى الله چې مغفرت وكړي دوى ته، او نه چې وښيي دوى ته سمه صافه لاره (څو چې دوى په خپل كفر كې دوام لري).

تفسير: يعنې په ظاهر كې مسلمانان او په زړه كې مذبذب پاتې وو، او په آخر كې بې له يقين كولو مړه شول، نو دوى ته د نجات لاره نه موندله كيږي، دوى كافران دي، او ظاهري مسلماني يې هيڅ په كار نه ورځي، له دې نه منافقين مراد دي.

او ځينې وايي چې: دا آيت د يهودانو په باره كې نازل شوى دى، چې لومړى يې ايمان راوړ، بيا د خُسي په عبادت كولو سره كافران شول، بيا يې توبه وكړه او مؤمنان شول، بيا له عيسى عليه السلام څخه منكران او پرې كافران شول، وروسته له دې د محمد رسول الله (صلى الله عليه وسلم) له رسالته يې هم انكار وكړ، او په كفر كې يې لا پسې ترقي وكړه.

بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمَا ۙ الَّذِيْنَ يَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ اَيَبْتَغُوْنَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۝

زېرى ورکړه (اى محمده !) منافقانو ته په دې چې بېشكه شته دوى ته عذاب دردناك. هغه كسان چې نيسي دوى كافران دوستان (خپل) بې له مؤمنانو، آيا لټوي دا (منافقان) له كافرانو څخه عزت، پس بېشكه (دنيوي او اخروي) عزت خاص الله لره دى ټول.

تفسير: يعنې منافقان چې له مسلمانانو ځنې جلا كيږي، او كه كافرانو سره دوستي كوي، د هغوى لپاره سخت عذاب دى، د منافقانو دغه خيال چې «مونږ ته د كفارو د ناستې او ولاړې لامله دنيوي عزت رسيږي» بيخي غلط دى، ځكه چې ګرد عزتونه د الله تعالى له خوا دي، هر څوك يې چې اطاعت كوي؛ د ده په برخه عزت رسيږي، خلاصه يې داسې شوه چې داسې خلق به په دنيا او آخرت دواړو كې خوار او ذليل اوسي.

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِى الْكِتٰبِ اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَاُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِىْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖۤ ۚ اِنَّكُمْ اِذًا مِّثْلُهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْكٰفِرِيْنَ فِىْ جَهَنَّمَ جَمِيْعَا ۙ ۝

او په تحقيق (پخوا) نازل كړى دى (الله) پر تاسې په كتاب (قرآن) كې دا حكم «هر كله چې واورېدل تاسې (په يوه مجلس كې) آياتونه د الله چې كفر (او انكار) كولى شي په دې آيتونو، او مسخرې كولى شي په هغو پورې؛ نو مه كينئ تاسې له دوى سره (اى مؤمنانو !) تر هغه پورې چې مشغول شي دوى په خبره بله كې (كه نه) په تحقيق تاسې (هم) په دې وخت كې د هغو په شان شئ (په ګناه كې)، بېشكه چې الله يو ځاى كوونكى دى د منافقانو او د كافرانو په جهنم (دوزخ) كې د ټولو (په يو ځاى كې).

تفسير: يعنې اى مسلمانانو ! الله تعالى پخوا له دې نه په قرآن عظيم الشأن كې تاسې باندې داسې حكم نازل كړى دى: «په هر هغه مجلس كې چې د الله تعالى پر احكامو تمسخر او له هغو څخه انكار كيږي، هلته له سره مه كينئ ! كه نه تاسې هم همغسې ګڼل كيږئ، هو ! كه هغوى په نورو خبرو كې مشغول شي؛ نو په هغه وخت كې له هغوى سره د كيناستلو هيڅ ممانعت نشته»، د منافقانو په مجلسونو او مركو كې د الله تعالى له احكامو او له آيتونو څخه انكار او

وربانـدې تمسخر کـړه، نو پـه دې مناسبت دا آيت نازل شـو، او دا چې يې وفرمايل: «حکم نازل شوی دی پر تاسې باندې؛ دې آيت ته اشاره ده: ﴿وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ﴾ الآيه - چې پخوا له دې نه نازل شوی وو».

فائده: له دې نه معلومه شوه، هر هغه څوک چې په مجلس کې په خپل دين باندې طعن او عيب اوري، او بيا هلته کيني، او اوري يې، اګر که هغه پخپله څه ونه وايي؛ «منافق» دی.

إِلَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ ۚ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللَّهِ قَالُوا أَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ۖ وَإِنْ كَانَ لِلْكَافِرِينَ نَصِيبٌ ۙ قَالُوا أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ۚ

هغه منافقان چې همیشه منتظر دي (حوادثو) ستاسې ته، نو که وو تاسې ته بری له (لوري) د الله، نو ووايي دا (منافقان مسلمانانو ته) چې: آيا نه وو مونږ له تاسې سره؟ او که وه کافرانو ته برخه (د بري) نو وايي دا (منافقان کفارو ته) چې: آيا غالب شوي نه وو مونږ پر تاسې او (آيا) ومو نه ژغورلئ (بچ مو نه کړئ) تاسې له مؤمنانو ځنې؟

تفسير: يعنې دا منافقان هغه کسان دي چې پر له پسې ستاسې د کمی په انتظار کې دي، بيا که بری (فتح) ستاسې په برخه شوه؛ نو تاسو ته وايي: «آيا مونږ له تاسې سره نه وو؟ (بلکه وو)، د ولجې (غنيمت) په مال کې مونږ هم له خپلو ځانونو سره شريک کړئ !»، او که کافرانو ته په جنګ کې څه شی په لاس ورشي، يعنې کفار غالب شي؛ نو هغوی ته وايي: «آيا مونږ تاسې باندې غلبه نه وه کړې؟ يعنې پر تاسې باندې غالب او په دې قادر وو چې تاسې قتل کړو، خو مونږ له تاسې ځنې لاس واخيست، نو آيا مونږ ستاسې حفاظت نه دی کړی؟ آيا مونږ تاسې د مسلمانانو له ضرره نه وی ژغورلي (بچ کړي)؟ نو په ولجه (غنيمت) کې مونږ ته هم برخه راکړئ !».

فائده: له دې ځنې معلومه شوه، که څوک سره له دې چې په حقاني دين کې هم وي، او له ګمراهانو سره پټې خبرې او ځان ته جوړښت لري؛ نو دا وضعيت يې هم د «نفاق» خبره ده.

فَاللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا ﴿١٤١﴾

نو الله به فيصله وکړي په مينځ ستاسې کې په ورځې د قيامت کې، او له سره به ونه ګرځوي الله لپاره د کافرانو پر مؤمنانو باندې هيڅ لاره (د حجت او د بري).

تفسير: يعنې الله تعالى ستاسې او د دوی په منځ کې حکم او فيصله کوي، چې تاسې جنت ته بيايي، او دوی په دوزخ کې اچوي، په دنيا کې هر څه چې د دوی له لاسه کيږي؛ هغه دې وکړي ! خو نتيجې به يې وګوري، مګر سره له هغه دوی د مؤمنانو هيڅ شی نه شي خرابولی، او نه يې له مينځه لرې کولی شي، چې همدغه (مسلمانانو ته ضررونه) د دوی د زړه ارزو او تمنا ده.

إِنَّ الْمُنَافِقِينَ يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ ۚ

بېشکه چې منافقان ټکي کوي (په اظهار د اسلام او اخفاء د کفر) له الله سره، او الله د دوی د ټکی په مقابل کې له دوی سره ټکي کوي.

تفسير: يعنې په زړه کې کافر او په ښکاره مسلمان دی، څو د دواړو خواوو له ضرر او ايذاء څخه محفوظ پاتې وي، او له دواړو خواوو ګټې او فائدې واخلي، حق سبحانه وتعالى د دوی د دې غولونې او ټکی دا سزا ورکړه، چې د هغوی ګرد شرارتونه او پټ خباثت يې خپل پاک نبي صلى الله عليه وسلم ته ښکاره کړ،

او دوی يې ذاسې ذليل او خوار کړل؛ چې بيخي له کاره ووتل، او د هيڅ اعتبار وړ نشول، او ګرد چلونه او فريبونه يې مسلمانانو ته ښکاره شول، او هغه سزا چې دوی ته په آخرت کې وررسيږي، هغه يې هم راڅرګنده کړه، لکه چې په راتلونکو آيتونو کې يې ذکر راځي، خلاصه يې دا چې د دوی له دغې ټکۍ ځنې هيڅ ونشول، او د الله تعالى له لوري دوی په داسې يوه مغالطه کې ولوېدل، چې دنيا او آخرت دواړه د دوی له لاسه لاړل.

وَإِذَا قَامُوٓا إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُوا۟ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٤٢﴾

او هر کله چې پاڅيږي دغه (منافقان) لمانځه ته؛ نو پاڅيږي سست، ښيي دوی خلکو ته (ځان خپل چې مونږ هم مسلمانان يو)، او نه يادوي دوی الله مګر (رياييې يادول) لږ.

تفسير: يعنې لمونځ چې نهايت ضرروي او خالص عبادت دی، او د هغه په اداء کولو کې هيڅ يو قسم ځاني او مالي ضرر او اندېښنه هم نشته؛ منافقان له هغه ځخه هم ځانونه باسي، او که کله يې له مجبوريته کوي، هغه هم تش د ريا او د نورو د ښوولو او تېر ايستلو لپاره يې کوي، څو نور د دوی له کفر ځنې خبر نشي، او مسلمانان وګمل شي، نو بيا له داسې خلقو ځنې د څه خبرې توقع کېدی شي، او دی څرنګه مسلمانان کېدی شي؟.

مُّذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ ۚ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا ﴿١٤٣﴾

په دې حال کې چې دوی متحيران مترددان دي په مينځ د دغه (ايمان او کفر)، نه (بيخي) په طرف د دغو (مؤمنانو دي په باطن کې) او نه بيخي په طرف د هغو (کفارو) دي (په ظاهر کې)، او هر څوک چې ګمراه (يې) کړي الله؛ نو له سره به نه مومې ته ده ته لاره (د حق).

تفسير: يعنې منافقان خو بيخي په تردد او حيرت کې دي، نه دوی په اسلام باندې اطمينان لري، او نه په کفر ډاډه دي، او په سخته پرېشانۍ کې مبتلا دي، کله يوه لوري ته تمايل کوي، او کله بل لوري ته خپل ميلان ښکاره کوي، او الله تعالى چې د هر چا د ګمراهۍ او پرېشانۍ اراده وفرمايي؛ نو هغه به د نجات لاره چېرې وومومي؟.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَجْعَلُوا۟ لِلَّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَٰنًا مُّبِينًا ﴿١٤٤﴾ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِى ٱلدَّرْكِ ٱلْأَسْفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ ۖ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا ﴿١٤٥﴾

اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې اى مؤمنانو !) مه نيسئ ! تاسې کافران دوستان (خپل) بې له مؤمنانو ځنې، آيا اراده لرئ تاسې (اى مؤمنانو !) د دې چې پيدا کړئ الله لره پر تاسې برهان (حجت صريح الالزام) ښکاره. بېشکه منافقان دي په طبقه ډېره ښکته کې له اوره (د دوزخ)، او له سره به نه مومې ته دوی ته مددګار (له عذابه خلاصوونکی).

تفسير: يعنې له مسلمانانو ځنې جلا کېدل، او له کفارو سره دوستي او يو ځای کېدل، د نفاق دليل دی، لکه چې منافقان يې کوي، نو تاسې لره اى مسلمانانو ! داسې کار بيخي نه ښايي !، که نه د پاک الله صريح الالزام، ښکاره برهان، او پوره حجت به په تاسې قائم شي، چې تاسې هم منافقان يئ، او د منافقانو لپاره د دوزخ ډېره ښکته طبقه مقرره ده، او هيڅ څوک له دوی سره مرسته او مددګاري نشي کولی؛ چې دوی له هغې طبقې ځنې وکاږي، يا يې په عذاب کې څه تخفيف راولي، مسلمانانو لره ښايي چې له داسې خبرې ځنې بيخي لرې وګرځي.

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَاعْتَصَمُوا بِاللَّهِ وَأَخْلَصُوا دِينَهُمْ لِلَّهِ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ ۖ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٤٦﴾

مګر هغه کسان چې توبه وباسي (له نفاقه)، او اصلاح کړي (اعمال خپل) او منګولې خښې کړي په (دین د) الله، او خالص کړي دین خپل (له ریا او ښودنې) خاص الله لره؛ نو دغه (تائبین مصلحین، معتصمین، مخلصین) به وي سره له مؤمنانو (په دارینو کې)، او ژر به ورکړي الله (ټولو) مؤمنانو ته (په دنیا او په عقبی کې) ثواب ډېر لوي.

تفسیر: یعنې هغه منافق چې له خپله نفاقه توبه وباسئ او خپل اعمال ښه کړي، او د الله تعالی غوره دین ښه مضبوط او کلک ونیسي، او پر پاک الله توکل وکړي، او له ریا او له نورو خرابیو ځنې خپل دین پاک او صاف وساتي؛ نو هغه خالص مسلمان دی، او په دین او دنیا کې به له نورو مؤمنانو سره وي، مخصوصا ایمان لرونکو لره ډېر لوی ثواب رسیدونکی دی، او هغه منافقانو ته به هم له هغو حقیقي مؤمنانو سره ثواب رسېدونکی وي؛ چې له نفاقه یې په رښتیا توبه ایستلې وي.

مَا يَفْعَلُ اللَّهُ بِعَذَابِكُمْ إِن شَكَرْتُمْ وَآمَنتُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمًا ﴿١٤٧﴾

څه کوي الله په عذاب ستاسې (او ولې به عذاب درکوي تاسې ته؟) که شکر وباسئ تاسې، (په دین دالله او په صدق توبه وباسئ) او ایمان ولرئ تاسې، او دی الله شکر قبلوونکی، ښه عالم (پر کردو شیانو).

تفسیر: یعنې الله تعالی د ښو کارونو قدر کوي، او د بندګانو پر کردو کارونو او خبرو باندې ښه عالم دی، نو هر هغه څوک چې د الله جل جلاله حکم ته په امتنان او شکر ایستلو سره غاړه ږدي، او هغه باندې له زړه یقین لري؛ نو الله تعالی عادل او رحیم دی، او داسې خلق له سره نه په عذابوي، او د داسې کسانو تعلق او ارتباط له عذابه سره بیخي نه وي، ببشکه الله تعالی سرکښان او غاړه غړوونکي په خپل عذاب اخته کوي.

«اللهم إنا نشکرک ونؤمن بک فقنا العذاب، وارزقنا الثواب، وکان الله شاکرا علیما».

لَّا يُحِبُّ اللَّهُ الْجَهْرَ بِالسُّوءِ مِنَ الْقَوْلِ إِلَّا مَن ظُلِمَ ۚ وَكَانَ اللَّهُ سَمِيعًا عَلِيمًا ﴿١٤٨﴾

نه خوښوي الله ښکاره ویل د بدې خبرې (لکه چې نه خوښوي پټ ویل د دې بدو هم) مګر (ښکاره ویل) له هغه چا چې ظلم پرې شوی وي، او دی الله ښه اوریدونکی (د ټولو اقوالو) ښه عالم (په پټو او ښکاره وو).

تفسیر: یعنې که په چا کې کوم دیني یا دنیوي عیب وي، نو نه ښایي چې هغه مشهور کړ شي، الله تعالی د ټولو خبرې اوري، او پر ټولو کارونو باندې پوهیږي، او هر یوه ته سم له هغه سره جزا ورکوي، داسې بد ویلو ته «غیبت» ویل کیږي، هو ! مظلوم لره اجازه ده، چې د ظالم ظلم خلقو ته بیان کړي، همدارنګه په ځینو نورو صورتونو کې هم «غیبت» روا دی، او ښایي دا حکم یې دلته د دې لپاره فرمایلی وي؛ چې مسلمانانو ته نه دي لازم چې د کوم «منافق» نوم مشهور او په ښکاره ډول یې بدنام کړي، چې په دې تور ونه خوري، او لا سرکښه، بېباکه او بې پروا نشي، بلکه مبهم نصیحت دې وکړ شي، «منافق» به خپله وپوهیږي، یا دې ځانته په ګوښه (تنهایی) کې نصیحت ورته وکړي، په دې سره ممکن دی چې هدایت ومومي، او پند واخلي، لکه چې رسول اعظم صلی الله علیه وسلم هم داسې کول، او د هیڅا نوم به یې نه مشهوراوه.

إِن تُبْدُوا خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ أَوْ تَعْفُوا عَن سُوءٍ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا ﴿١٤٩﴾

که ښکاره کړئ تاسې خير (نيکي ـ طاعت) يا پټوئ دغه (خير) يا عفوه کوئ له بدئ (چې ظلم دی)؛ نو بېشکه الله (هم) دی ښه عفوه کوونکی (ګناهګارانو ته سره له قوت او قدرته) ښه قادر (په عذاب د ظالم او ثواب د مظلوم او نورو).

تفسير: په دې آيت کې مظلوم ته د معافولو ترغيب ورکول منظور دي، چې الله تعالى سره له قدرت او زبردستئ د خطا کوونکو خطاګانې ورمعافوي؛ نو عاجز او لاس لاندې بنده ته په اولى طريقه سره ښايي چې د نورو قصور ور معاف کړي، خلاصه يې داده: مظلوم ته جائز دي چې له ظالم څخه خپل بدل واخلي ! مګر افضل خو دادی چې صبر وکړي، او ور ځنې تېر شي !، په دغه آيت کې دې لوري ته اشاره ده، که د منافقانو اصلاح غواړئ نو د دوی پر ايذاء او ضرر رسولو صبر وکړئ ! او په پسته ژبه او په پټه سره دوی وپوهوئ !، له ښکاره طعن او لعن او بد ويلو څخه خپل ځانونه وساتئ، او په ښکاره ډول هغوی سره مخالفت مه کوئ !.

إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُوا بَيْنَ اللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُوا بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾ أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا ۚ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٥١﴾

بېشکه هغه کسان چې کافران (منکران) کيږي پر الله، او پر رسولانو د الله، او اراده لري (غواړي) دوی چې تفريق (بيلتون) وکړي په منځ د الله، او رسولانو د الله کې، او وايي دوی چې: مونږ ايمان راوړو پر ځينو، او کافران (منکران) کيږو پر ځينو (نورو رسولانو)، او اراده لري (غواړي) دوی چې ونيسي په منځ د دې (کفر او اسلام کې) يوه لاره. دغه (تفريق کوونکي) هم دوی کافران دي (په کمال د کفر او) په حقه سره، او تيار کړی دی مونږ لپاره د کافرانو عذاب ډېر سپکوونکی (د دوزخ).

تفسير: له دې ځايه د يهودانو ذکر دی، څرنګه چې په يهودانو کې نفاق ډېر وو، او د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم په زمانه کې چې منافقان عموما يهودان وو، يا يې له يهودانو سره رابطه او محبت درلود (لرلو) او د يهودانو پر مشورو باندې يې کار کولو؛ نو ځکه يې په پاک قرآن کې زياتره د دې دواړو ډلو ذکر يو ځای فرمايلی دی.

د دې آيت خلاصه دا ده: «هغه کسان چې له الله جل جلاله او د ده له رسولانو منکران دي، او غواړي چې د الله تعالى او د ده د رسولانو په مينځ کې فرق وکړي، يعنې پر الله باندې ايمان راوړي، او پر رسولانو يې ايمان را نه وړي، او ځينې رسولان يې ومني، او ځينې يې ونه مني، د هغوی مطلب دا دی چې د اسلام او کفر په مينځ کې يو نوی مذهب د خپلو ځانونو لپاره جوړ کړي، همدغه کسان اصلي او پاخه کافران دي، د دوی لپاره د خواری او د ذلت عذاب تيار دی.

فائده: د الله تعالى منل هلته معتبر دي چې د خپلې زمانې د نبي عليه السلام تصديق هم وکړي، او د هغه حکم هم ومني، بې د نبي عليه السلام له تصديقه د الله تعالى منل بې فائدې دي، او څه اعتبار نه لري، بلکه د يوه نبي عليه السلام تکذيب د الله تعالى او د ګردو انبياوو عليهم السلام تکذيب ګڼل کيږي، کله چې يهودانو د رسول الله صلى الله عليه وسلم تکذيب وکړو؛ نو د الله تعالى او د ګردو انبياوو عليهم السلام په تکذيب کوونکو کې ګڼ او ډېر سخت کافران وګڼل شول.

وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَلَمْ يُفَرِّقُوا بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ أُولَٰئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيهِمْ أُجُورَهُمْ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٥٢﴾

او هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی پر الله او پر (ټولو) رسولانو د (الله)، او نه دی کړی دوی تفریق (بیلتون) په مینځ د هیڅ یوه کې له دوی نه (په نه منلو سره)، دغه (مؤمنان په ټولو مؤمن به شیانو)؛ ژر به ورکړي (الله) دوی ته اجرونه (ثوابونه) د دوی، او دی الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډېر رحم کوونکی.

تفسیر: یعنې هغه کسان چې په منځ د هیڅ یو له انبیاوو علیهم السلام کې يې جلا (جدا) والې ونه کړ، بلکه په الله جل جلاله او د ده پر ټکردو (ټولو) رسولانو علیهم السلام باندې يې ایمان راوړ؛ نو الله تعالی په خپل فضل او مرحمت سره دوی ټکردو ته لوی ثواب ورکوي، له دې ځنې هغه مسلمانان مراد دي، چې پر الله تعالی او پر محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم او پر نورو ټولو رسولانو علیهم السلام او نورو ټکردو مؤمن به شیانو باندې يې ایمان راوړی دی.

يَسْأَلُكَ أَهْلُ الْكِتَابِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتَابًا مِّنَ السَّمَاءِ ۚ فَقَدْ سَأَلُوا مُوسَىٰ أَكْبَرَ مِن ذَٰلِكَ فَقَالُوا أَرِنَا اللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْهُمُ الصَّاعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِن بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ فَعَفَوْنَا عَن ذَٰلِكَ ۚ وَآتَيْنَا مُوسَىٰ سُلْطَانًا مُّبِينًا ﴿١٥٣﴾

سوال کوي له تا نه (ای محمده !) اهل کتاب (یهودان) د دې چې نازل کړې ته پر دوی (لکه تورات یو لیکلی) کتاب له اسمانه، نو په تحقیق سوال کړی وو دوی (یعنې پلرونو د دغو یهودانو) له موسی ځخه ډېر لوی له دغه (سواله)، پس ویلي وو دوی (موسی ته) چې: وښیه مونږ ته الله ښکاره (مخامخ)، نو ونیول دوی لره صاعقه (تندر) په سبب د ظلم د دوی (چې د الله د لیدلو سوال وو په دنیا کې)، بیا ونیوه دوی ځُسی (په الوهیت سره) پس له هغه چې راغلې دوی ته ښکاره معجزې (په توحید)، پس عفوه وکړه (تېر شو) مونږ له دې ټکناه (د دوی په توبه کولو سره)، او ورکړی وو مونږ موسی ته غلبه صریحه (برهان ښکاره).

تفسیر: د یهودانو څو مشران د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شول، او ویې ویل: «که ته په رښتیا سره رسول يې؛ نو یو لیکلی شوی کتاب یو ځلې له اسمانه راوړه ! لکه چې موسی علیه السلام تورات راوړی وو»، نو پر دغې خبرې دا آیت نازل شو، او د دې رکوع ټول الزامات د دوی په ځواب کې ذکر کیږي، او وروسته له هغه تحقیقي ځواب ورکوي.

د آیت مطلب دا دی: ای محمده ! (صلی الله علیه وسلم): یهودان له تا ځنې عناداً د هسې کتاب مطالبه کوي، د دوی داسې بېباکي او سرکښي د تعجب خبره نه ده، د دوی پلرونو له دې ځنې هم لویه او سخته غوښتنه له خپل نبي موسی علیه السلام ځنې کړې وه؛ چې مونږ ته الله تعالی په ښکاره ډول سره راوښیه !، که نه مونږ ستا خبره نه منو، لکه چې په اول جزء د البقره سورت په (۵۵) آیت (۶) رکوع کې تېر شو، نو ځکه پر داسې ویونکو باندې ټکه ولوېده، او ټکرد سره مړه شول، بیا الله تعالی د موسی «علیه السلام» په دعا سره دوی ژوندي کړل، د دومره عظیم الشأنو معجزو له لیدلو سره بیا د ځُسي په عبادت کې مشغول شول، بیا الله تعالی دوی وبخښل، دا واقعه د البقره په سورت کې لږ څه په تفصیل سره ذکر شوې ده.

وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّوْرَ بِمِيْثَاقِهِمْ

او پورته کړی وو مونږ برسېره پر دوی (غر د) طور لپاره د (قبول د کلکې) وعدې د دوی (چې د موسوي شريعت په منلو سره يې کړې وه).

تفسير: يعنې هر کله چې يهودانو وويل: چې د «تورات» حکم سخت دی، مونږ يې نه منو، نو دلته د «طور» غر له ځمکې څخه ورپورته او د دوی پر سرونو باند ځوړند شو (چې له خپله عهده سره سم) د «تورات» احکام ومني، او مضبوط او کلک يې ونيسي، که نه دا غر ستاسې په سر لويږي.

وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا

او ويلي وو مونږ دوی ته چې ننوځئ ! په وره (د ايليا د ښار) سجده کوونکي.

تفسير: په يهودانو باندې حکم وشو، چې په سجده کولو سره ښار ته ننوځي، او د ننوتلو په وخت کې مو سرونه راښکته کړئ !، دوی د سجدې کولو پر ځای په خپلو کونډيو وښورېدل، او وښوييدل.

وَّقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوْا فِي السَّبْتِ وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿۱۵۴﴾

او ويلي وو مونږ دوی ته چې مه تېرېږئ له (حده) په (ورځې د) شنبې کې (د ماهيانو په ښکار سره)، او اخيستې وه مونږ له دوی څخه وعده محکمه (مضبوط قول په دغه خبره).

تفسير: په يهودانو باندې حکم شوی وو، چې د شنبې (خالي) په ورځ کې د ماهي (کب) ښکار مه کوئ ! او په دې ورځ کې له ګردو ورځو ځنې ډېر کبان په اوبو کې دوی ته په نظر ورتلل، نو يهودانو داسې چل او حيله جوړه کړه، چې د سيند په غاړو کې يې حوضونه جوړ کړل، او د شنبې په ورځو کې به يې کبان په هغو حوضونو کې ننه ايستل، او ساتل، او په نورو ورځو کې به يې ښکار کول، د دې فريب او عهد ماتولو لامله الله تعالى له دوی ځنې بيزوګان جوړ کړل، چې په ځناورانو کې ډېره خسيسه او مکاره طبقه ده.

فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ وَكُفْرِهِمْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَقَتْلِهِمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَّقَوْلِهِمْ قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ؕ بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۵۵﴾

پس (په سزا ورسولی شو دوی) په سبب د ماتولو د دوی د کلک عهد خپل، او په سبب د کفر د دوی په آيتونو د الله باندې، او په سبب دوژلو د دوی انبياوو لره په ناحقه (په خپلې عقيدې سره هم)، او په سبب دويلو د دوی (دا خبره نبي ته د تمسخر په ډول) چې زړونه مو په پردو کې پټ دي (ستا وينا پرې اثر نه کوي، نو الله د دغو يهودانو په رد کې فرمايي چې: داسې نه ده لکه چې تاسې يې وايئ) بلکه مهر (د غفلت) وهلی دی الله په زړونو د دوی په سبب د کفر د دوی، پس ايمان نه راوړي دوی مګر لږ (د دوی نه).

تفسير: يعنې يهودانو هغه عهد مات کړ، نو الله تعالى په دوی باندې په دې عهد ماتولو او د نورو آيتونو په انکار، او د انبياوو عليهم السلام په نا حقه وژلو او د دوی په دې وينا باندې چې ځمونږ په زړونو باندې پردې او پوښونه دي؛ خورا سخت سخت عذابونه نازل کړل.

کله چې ځمونږ رسول صلی الله علیه وسلم یهودانو ته دحق دین دمنلو دعوت ورکولو نو، دوی به ویل چې: «ځمونږ زړونه په پردو کې دي، او ستا خبرې هلته نه رسیږي»، الله تعالی فرمایي چې: خبره داسې نه ده، بلکه د دوی د کفر او انکار په سبب د دوی پر زړو باندې الله جل جلاله مهر لګولی دی، چې د دغه مهر له امله ایمان د دوی په برخه نشي کېدی، مګر لږ څه کسان له دې نه مستثنی دي، لکه عبد الله بن سلام او د هغه نور ملګري (رضي الله تعالی عنهم).

وَّبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ بُهْتَانًا عَظِيْمًا ﴿۱۵۶﴾ وَّقَوْلِهِمْ اِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيْحَ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۚ

او په سبب د کفر د دوی (مکررا) او (په سبب د) ویلو د دوی پر مریمې دروغ غټ (د زنا). او (په سبب د) ویلو د دوی (داسې چې): بېشکه وژلی دی مونږ مسیح عیسی ځوی د مریمې رسول د الله (په ګومان خپل).

تفسیر: او له دې جهته چې د عیسی علیه السلام څخه منکران شول، او بل یې کفر ځانونو ته غوره کړ، او پر بي بي مریمې رضي الله تعالی عنها یې لوی تهمت (تور) وکړ، او د دوی پر دې خبرې باندې چې په افتخار سره به یې ویل: «مونږ وژلی دی عیسی ځوی د مریمې چې د ده له اظهار سره سم د الله تعالی رسول وو»، نو د دې ګردو جهتونو له امله پر یهودانو باندې عذابونه او مصیبتونه نازل شولو، (که لفظ د «رسول الله» د یهودانو وینا وي نو استهزاء ده، او که د الله جل جلاله وي؛ نو استیناف یعنې ځانته جمله ده منصوب بالمدح ده، یعنې مدح کوم د رسول الله، نو فرمایي: الله په تکذیب د یهودانو کې).

وَمَا قَتَلُوْهُ وَمَا صَلَبُوْهُ وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ ۭ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ۭ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ يَقِيْنًا ﴿۱۵۷﴾ بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَيْهِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۵۸﴾

حال دا چې نه وو وژلی دوی (عیسی واقعاً) او نه پر دار کړی وو دوی هغه (یقینا)، ولیکن مشتبه کړی شو (دغه وژلی شوی په دار وهلی شوی په عیسی سره) دوی ته، او بېشکه هغه کسان چې اختلاف کړی دی دوی په (حق د) عیسی کې خامخا په شک کې دي په (شان) د ده کې، نشته دوی ته په (شان) د ده کې هیڅ علم مګر تش متابعت د ګومان (خپل)، او نه وو وژلی دوی عیسی (په وژلو یقیني سره). بلکه پورته کړی وو دی الله طرف خپل ته، او دی الله ښه قوي غالب (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت کوي).

تفسیر: الله تعالی د دوی د دې وینا تکذیب کوي، او فرمایي چې: دغو یهودیانو په واقع کې عیسی علیه السلام نه دی وژلی، او نه یې په دار کړی وو، هغه مختلفې خبرې چې یهودان یې په دې باره کې کوي؛ له خپله فکره او اټکله یې وایي، او د الله تعالی له لوري په شبهه کې اچول شوي دي، او له دوی څخه هیڅوک په اصلي خبرې نه دي خبر، رښتیا خبره دا ده چې الله تعالی عیسی علیه السلام آسمان ته وخېژاوه، او الله تعالی پر ګردو شیانو باندې قادر او په هر کار کې یې یو حکمت دی.

خبره دا ده کله چې یهودانو د عیسی علیه السلام وژلو ته عزم او قصد وکړ، نو لومړی یو سړی د عیسی علیه السلام کور ته ننوت، کله چې الله تعالی عیسی علیه السلام آسمان ته وخېژاوه، نو پاک الله د دې سړي شکل لکه د عیسی علیه السلام غوندې واړاوه، او ورسره مشابه یې کړ، څرنګه چې نور یهودان هغه پسې د عیسی علیه السلام کور ته ننوتل، هغه سړی یې چې نوم یې طیطاؤش وو؛ مسیح وګڼه، او ویې واژه، وروسته له هغه دوی ته داسې یو خیال پیدا شو، چې «د دې مصلوب مخ خو د مسیح له مخ سره ډېر مشابه دی، او نور بدن یې ځمونږ د ملګري په شان رانبکاري»، چا ویل: «که

دا مقتول مسيح وي؛ نو ځمونږ سړی «طيطاؤش» چېرې لاړ؟ او که دا ځمونږ سړی دی؛ نو مسيح چېرې دی؟»، تش په اټکل او ګمان هر چا هر څه ويل، او اصلي خبره له دوی څخې هيڅا ته ښکاره نه وه، رښتيا خو همدا ده چې په يقين سره عيسی عليه السلام دوی له سره وژلی نه دی، بلکه الله آسمان ته پورته کړی دی، او يهودان يې په شبهه کې اچولي دي.

وَإِنْ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ﴿١٥٩﴾

او نشته هيڅوک له اهل کتابه مګر قسم دی خامخا چې ايمان به راوړي دوی خامخا (په وخت د نزعې خپلې يا په وخت د نزول د عيسی) پر دغه (عيسی) پخوا له مرګه د ده څخه، او په ورځ د قيامت به وي (عيسی) پر دوی باندې شاهد (چې يهودانو ونه منلم، او نصرانيانو «ابن الله» وبللم).

تفسير: عيسی عليه السلام پر آسمان کې ژوندی موجود دی، کله چې «دجال» پيدا شي؛ نو هله به عيسی عليه السلام بيا دغې ځمکې ته تشريف راوړي، او «دجال» به وژني، او يهودان او نصرانيان به په ده باندې صحيح ايمان راوړي، چې بېشکه عيسی ژوندی دی، مړ شوی نه دی، او د قيامت په ورځ کې به عيسی عليه السلام د دوی دغه ګرد اعمال او حالات اظهاروي، «چې يهودانو ځما تکذيب او مخالفت کاوه، او نصرانيانو ما ته د الله جل جلاله ځوی ويل».

فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَن سَبِيلِ اللَّهِ كَثِيرًا ﴿١٦٠﴾
وَأَخْذِهِمُ الرِّبَا وَقَدْ نُهُوا عَنْهُ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ ۚ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٦١﴾

نو په سبب د ظلم د هغو کسانو چې يهودان دي؛ حرام کړل مونږ پر دوی باندې طيبات (هغه ډېر پاک شيان) چې حلال کړی شوي وو دوی ته، او (په سبب د) اړولو (منع کولو) د دوی له لارې د الله څخه ډېر (خلق). او (په سبب د) اخيستلو د دوی سود (له خلقو نه) حال دا چې په تحقيق منع کړی شوي وو دوی (په تورات کې) له دغه (سوده)، او (په سبب د) د خوړلو د دوی مالونه د خلقو په نا حقه سره (چې رشوت او نور ناروا شيان دي)، او تيا رکړی دی مونږ لپاره د کافرانو له دوی څخه عذاب ډېر دردناک.

تفسير: د موسی عليه السلام له زمانې راهيسې اهل کتاب پرله پسې په ډېرو سرغړولو، عهد ماتولو، او د انبياوو عليهم السلام په ايذاء او ضرر رسولو کې مشغول وو، نو ای محمده صلی الله عليه وسلم ! «اوس که دوی د عناد له مخې له تا څخه د (تورات) غوندې يو کتاب دفعتاً يو ځلې طلب کړي، او په قرآن عظيم الشأن باندې (چې له ګردو کتابونو ځنې افضل دی) کفايت ونه کړي؛ نو له دې متعصبو او نالايقو ځنې هيڅ لرې او مستبعد نه ده، د دوی له هسې نالائقو حرکاتو څخه تعجب مه کوه ! او مه حيرانېږه ! د دوی ګرد پخوانې او وروستني وړوکي او لوی حرکات مونږ ته ښه معلوم دي، مونږ د دوی لپاره په دنيا کې خورا (ډېر) سخت شريعت معين کړی، او په آخرت کې مو هم ډېر سخت عذاب ورته مقرر او تيار کړی دی.

لَٰكِنِ الرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَالْمُؤْمِنُونَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَالْمُقِيمِينَ الصَّلَاةَ وَالْمُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالْمُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ أُولَٰئِكَ سَنُؤْتِيهِمْ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٦٢﴾

ليکن هغه (کسان) چې پاخه دي په علم کې له دوی څخې او ايمان لرونکي دي؛ ايمان لري په هغه (کتاب) چې نازل کړی شوی دی تاته، او (ايمان لري) پر هغو (کتابونو) چې نازل کړی شوي

دي پخوا له تا څخه، او (ايمان راوړي پر ټولو انبياوو) سم قائم كوونكو د لمانځه، او هغه كسان چې وركوونكي دي زكات لره، (يا) او (صفت كوو د) سم قائم كوونكو د لمانځه، او هغه كسان چې وركوونكي دي زكات لره، او ايمان راوړونكي په الله او په ورځې آخرې (چې قيامت دی)، دغه (كسان چې د صحيح ايمان او صالح عمل لرونكي دي) ژر به وركړو مونږ دوی ته ثواب ډېر لوی (جنت، رضا، او لقا).

تفسير: يعنې د بني اسرائيلو هغو كسانو چې مضبوط علم يې درلود (لرلو)، لكه عبد الله بن سلام او د هغه ملګري رضي الله تعالى عنهم، او هغه خلق چې د ايمان خاوندان دي، دوی قرآن، تورات، انجيل او نور ګرد مني، د لمانځه د سم اداء كوونكي له مدح او صفت او ښه حال څخه څه پوښتنې كوې !، او زكات وركوونكي او ايمان لرونكي په الله او په قيامت چې دي؛ مونږ دغو ستايل شويو كسانو ته خورا (ډېر) لوی ثواب او اجر وركوو، پرته له لومړني فريق چې د هغوی لپاره خورا سخت عذاب موجود دی.

(پاس په تحت اللفظ كې د ﴿وَٱلْمُقِيمِينَ ٱلصَّلَوٰةَ﴾ دوه ترجمې ليكلې شوي دي:

(۱): چې «المقيمين» په ﴿بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ﴾ عطف، او تر انبياء مراد شي، يعنې «يؤمنون بالكتاب وبالأنبياء المقيمين الصلاة».

(۲): چې «يؤمنون» خبر شي د «الراسخون» چې مبتدأ دی، او «المقيمين» په مدح سره منصوب شي، چې د هغه تركيب تقرير اوس تېر شو.

إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ

بېشكه چې مونږ وحي مو كړېده تاته (ای محمده !)

تفسير: اهل كتابو او د مكې معظمې مشركانو او نورو كفارو د قرآن مجيد په حقانيت او صداقت كې راز راز شبهې پيدا كولې، وګورئ ! چې دلته يې داسې وويل: «لكه چې تورات يو ځای او يو ځلې آسمانه رانازل شو، ښايي هم هغسې ته هم يو كتاب له آسمانه راوړې، بيا تا رښتينی نبي ګڼو، » نو الله تعالى آيتونه نازل كړل، او حقيقت يې راښكاره كړ، او د وحي عظمت يې راڅرګند كړ، او د كفارو د ګردو شبهاتو ترديد يې وفرمايه، او د الله تعالى د وحي متابعت يې په تعميم، او د قرآن مجيد اطاعت يې په تخصيص سره بيان وفرمايه، او دا يې راوښوده، چې د الله جل جلاله حكم منل پر ګردو باندې فرض دی، او د هيڅا هيڅ يو عذر په دې كې نه منل كيږي، هر څوك چې د ده په تسليم كې تردد يا تأمل يا انكار كوي؛ هغه ګمراه او بې دين دی، اوس له دې ځايه تحقيقي ځواب وركول كيږي، دغه ده چې فرمايي:

كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ

لكه چې وحي كړې وه مونږ نوح ته، او (نورو) انبياوو ته پس له ده (لكه هود، صالح، لوط، شعيب او نور).

تفسير: وحي خاص د الله تعالى حكم او د ده هغه پيغام دی، چې په انبياوو عليهم السلام باندې نازليږي، او همغسې چې پر پخوانيو انبياوو باندې د الله جل جلاله وحي نازله شوې ده؛ همغسې پر محمد صلى الله عليه وسلم باندې هم الله تعالى خپله وحي نازله كړېده، نو هر هغه چا چې هغه پخوانۍ وحي منلې ده؛ ښايي چې دا هم هرومرو ومني، او هر هغه چې له هغې ځنې انكار كوي؛ ګواكې له ګردو ځنې انكار كوي.

د نوح عليه السلام له زمانې پخوا د الله جل جلاله او د انبياوو عليهم السلام د حكم پر مخالفت باندې عذاب نه نازلېده، بلكه دوى به معذور ګڼل كېدل، او د تعطيل او تأخير رعايت به پكې كېده، او ډېر زيات كوښښ به د دوى په پوهولو صرفېده، د نوح عليه السلام په زمانه كې كله چې مذهبي تعليم ښه ظاهر شو، او خلقو ته د الله تعالى د احكامو په متابعت كې هيڅ يوه خفاء پاتې نه شوه؛ نو دلته پر غاړه غړوونكو باندې عذاب نازل شو، اول د نوح عليه السلام په زمانه كې طوفان نازل شو، وروسته له هغه د هود عليه السلام او صالح عليه السلام او شعيب عليه السلام په زمانو كې كافرانو باندې نور راز راز عذابونه نازل شول، نو د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم د وحي تشبيه څخه د هغو پخوانيو انبياوو له وحيو سره اهل كتابو او د مكې معظمې مشركانو ته پوره تنبيه ورکړل شوه، او دوى ته دا خبره لا څرګنده كړى شوه، هر څوك چې د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم وحى يعنې قرآن عظيم الشأن نه مني، نو هغه هم د لوى عذاب وړ او مستحق ګرځي.

وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَعِيْسٰى وَاَيُّوْبَ وَيُوْنُسَ وَهٰرُوْنَ وَسُلَيْمٰنَ ۚ وَاٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ﴿۱۶۳﴾ وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ۭ وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا ﴿۱۶۴﴾

او (لكه چې) وحي كړې وه مونږ ابراهيم ته، او اسماعيل ته، او اسحق ته، او يعقوب ته، او اولادې (د يعقوب) ته، او عيسى ته، او ايوب ته، او يونس ته، او هارون ته، او سليمان ته، او ورکړى وو مونږ داود ته زبور. (لېرلي وو مونږ نور داسې) رسولان چې په تحقيق سره قصه كړې ده مونږ د دوى پر تا (اى محمده !) پخوا له دې نه، او (لېرلي وو مونږ نور داسې) رسولان چې نه مو دي كړي قيصې د هغوى پر تا (اى محمده !)، او خبرې كړي دي الله له موسى سره په خبرو كولو سره.

تفسير: له نوح عليه السلام څخه وروسته انبياء عليهم السلام يې په اجمال، او هغه انبياء عليهم السلام يې چې په دوى كې مشهور او جليل القدر او اولوا العزم دي؛ په تخصيص او تفصيل سره ذكر كړل، چې له دى ځنې دا ښه معلومه شوه، هغه وحي چې پر محمد صلى الله عليه وسلم باندې نازله شوې ده، د هغې حقانيت او د هغې منل همداسې ضروري دي؛ لكه چې د نورو اولوا العزمو او مشاهيرو انبياوو عليهم السلام وحي منل ضروري وو.

او دا هم رابښكاره شوه، چې پر نورو انبياوو باندې چې وحي راتلله: كله به دوى ته پرښتو پيغام راوړ، او كله به هغوى ته ليكلى كتاب ورورسېد، كله به د ملائكو له وسيلې پرته په خپله الله تعالى خپل رسول سره خبرې كولې، مګر په دې ګردو صورتونو كې څرنګه چې د الله تعالى حكم دى او د بل چا حكم نه دى؛ نو پر بندګانو باندې د هغه اطاعت يو شان فرض دى، اعم له دې چې تر بندګانو پورې د هغه د رسېدلو طريقه تحريري وي، كه تقريري وي، او كه پيغام وي، نو اوس د يهودانو دا وينا: «كه تاسې د تورات غوندې يو كتاب يو ځلې له آسمانه په مونږ نازل كړئ؛ نو مونږ به تا رښتينى ګڼو، كه نه نو دا ډېره د ناپوهى، بې ايمانى، او حماقت خبره ده» صريح كفر او بښكاره حماقت دى.

رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌ ۢ بَعْدَ الرُّسُلِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۶۵﴾

(او لېرلي مو دي) رسولان چې زيري كوونكي دي (مؤمنانو ته په جنت) او ويروونكي دي (د كفارو په جحيم)، لپاره د دې چې پاتې نشي خلقو ته پر الله باندې هيڅ حجت (دليل، عذر، بهانه)

وروسته له (لېرلو) د رسولانو، او دی الله ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

تفسیر: الله تعالی پرله پسې خپل انبیاء علیهم السلام رالېږلي دي، چې مؤمنانو ته زېرې ورکړي، او کافران وویروي، تر څو د قیامت په ورځ کې خلقو ته د دې عذر او بهانې ځای پاتې نشي؛ چې ووائي: مونږ ته ستا رضا او غیر رضا معلومه نه وه، ځکنی خامخا به مو په هغی باندی تګ کړی وو، نو ځکه الله تعالی خپلو رسولانو ته معجزې ورکړې، او ور ویې لېږلې، او رسولانو هم د حق لارې خلقو ته وروښودلې، نو وروسته له دې نه د حق دین په منلو کې د هیڅا عذر او پلمه (بهانه) نه اوږدل کیږي.

لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ اَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ ۚ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَشْهَدُوْنَ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿۱۶۶﴾

لیکن الله شاهدي لولي (اظهار، اقرار کوي) په هغه شي چې نازل کړی یې دی تاته (ای محمده !)، چې نازل کړی یې دی دا (معجزه قرآن پر تا) په علم خپل سره، او ملائکې هم شاهدي لولي (په نبوت ستا)، او بس دی الله حق ظاهر کوونکی، (نو د دوی شهادت ته حاجت نشته).

تفسیر: یعنې وحي به په هر رسول باندې نازلېده، دا کومه نوې خبره نه ده، او ځکردو ته معلومه ده، لیکن په دې قرآن کې الله تعالی خپل خاص علم رالېږلی دی، او الله تعالی به دا حق ظاهروي، لکه پوهان چې پرې پوهیږي، هغه علوم او حقائق چې له دې قرآن عظیم څخه حاصل شوي دي، او پرله پسې حاصلیږي، هغه له نورو کتابونو ځنې له سره په لاس نه دي راغلي، او هومره هدایت چې خلقو ته د محمد صلی الله علیه وسلم له رسالته رسېدلی دی، د بل چا له رسالته نه دی رسېدلی، ځکه چې د ده نبوت عام دي ټولو خلکو، انسانانو او پیریانو ته.

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ قَدْ ضَلُّوْا ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ﴿۱۶۷﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَظَلَمُوْا لَمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيْقًا ﴿۱۶۸﴾ اِلَّا طَرِيْقَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَي اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۱۶۹﴾

بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي (د محمد له نبوت څخه)، او منعه کړي یې دي (خلق) له لارې د الله (اسلام) څخه؛ په تحقیق سره ځکمراه شوي دي په ځکمراهۍ ډېرې لرې سره (د حق له لارې نه). بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي، او ظلم یې کړی دی (په پټولو د نعت د محمد یا په منعه د مؤمنانو له ایمانه) نه دی الله چې مغفرت وکړي دوی ته، او نه چې وښیي دوی ته سمه صافه لاره (څو چې دوی کافران دي) مګر (وبه ښیي دوی ته) لاره د دوزخ چې همېشه به وي دوی په هغه کې تل تر تله (بې انتها بلا انقطاع)، او دی دغه (ادخال او خلود في النار) پر الله باندې ډېر آسان.

تفسیر: د قرآن مجید او د محمد صلی الله علیه وعلی آله وصحبه وسلم له تصدیق او توثیق څخه وروسته فرمایي: «هغه کسان چې ستا له رسالت څخه منکران شول، او ستا هغه اوصاف او حالات چې په «تورات» کې موجود وو، هغه یې ځکرد پټ کړل، او خلقو ته یې د هغو په ځای نور مهمل شیان ورځرګند کړل، او نور یې هم له حقاني دین څخه واړول؛ نو داسې کسان له سره نه د هدایت وړ او نه د مغفرت مستحق دي»، له دې نه دا خبره ښه ښکاره شوه، چې هدایت یواځې د محمد صلی الله علیه وسلم په متابعت کې منحصر دی، او ځکمراهي د محمدي شریعت د مخالفت نوم دی، چې په دې سره د یهودانو پوره سرزنښ او ترڼه وشوه، او د دوی د خیالاتو غلطول لا ښه واضح شول.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمُ الرَّسُولُ بِالْحَقِّ مِنْ رَبِّكُمْ فَآمِنُوا خَيْرًا لَكُمْ ۚ وَإِنْ تَكْفُرُوا فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿۱۷۰﴾

ای خلقو ! په تحقیق راغلی دی تاسې ته رسول (محمد) په حق (قرآن یا اسلام) سره له (طرفه د) ربه ستاسې، نو ایمان راوړئ (او قصد وکړئ ! دهغه شي چې) خیر دی تاسې ته، او که کافران شوي یئ تاسې پس بېشکه خاص الله لره دي هغه شیان چې په آسمانونو کې دي، او (هغه شیان چې په) ځمکه کې دي (سره له آسمانونو او ځمکې ملکاً، خلقاً اوعَبیداً)، او دی الله ښه عالم (په ټولو احوالو) ډېر حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

تفسیر: ستاسې او ستاسې د کتاب تصدیق، او ستاسې د مخالفینو یعنې د اهل کتاب تغلیظ او تضلیل یې بیان کړ، اوس ګردو خلقو ته ندا کولی شي چې: «ای خلقو ! زما صادق رسول له رښتیني کتاب او حق دین سره تاسې ته درغلی دی، ستاسې خیر په همدې کې دی، چې د هغه ګردې خبرې ومنئ ! او که یې ونه منئ؛ نو ستاسې دغه کفر الله جل جلاله ته هیڅ ضرر نشي رسولی، ځکه چې خاص الله جل جلاله لره هغه شیان دي، چې په اسمانونو او ځمکو کې دي، او الله جل جلاله ستاسې په ګردو احوالو او افعالو خبردار دی، ستاسې د ټولو اعمالو پوره حساب او کتاب کوي، او بدل یې درکوي.

فائده: له دې ارشاداتو ځنې واضحه معلومه شوه، د هغو وحیو منل فرض دي؛ چې پر انبیاوو علیهم السلام باندې نازلې شوي دي، او له هغو څخه انکار کول کفر دی.

يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ وَلَا تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقَّ ۚ إِنَّمَا الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللَّهِ وَكَلِمَتُهُ ۚ أَلْقَاهَا إِلَىٰ مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ ۖ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ۖ وَلَا تَقُولُوا ثَلَاثَةٌ ۚ انْتَهُوا خَيْرًا لَكُمْ ۚ إِنَّمَا اللَّهُ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ سُبْحَانَهُ أَنْ يَكُونَ لَهُ وَلَدٌ

ای اهل کتابو ! مه کوئ ! تاسې مبالغه (تجاوز له حدودو) په دین ستاسې کې او مه وایئ تاسې پر الله مکر (ویل) حق (رښتیا)، بېشکه همدا خبره ده بله نه ده چې مسیح عیسی ځوی د مریمې رسول د الله دی، او (داسې) کلمه د ده ده، (یعنې پیدا شوی دی په کلمې د «کن» سره) چې لېږلې یې وه دغه (کلمه د هغه مور) مریمې ته، او روح دی له جانبه د الله، نو ایمان راوړئ په الله او په رسولانو د ده (الله) !، او مه وایئ تاسې (داسې چې معبودان) درې دي، منع شئ (له دې وینا، اختیار کړئ توحید چې) خیر دی تاسې ته، بېشکه همدا خبره ده چې الله حق معبود یو دی (بې شریکه بې عیبه)، پاکي ده ده لره له دې چې شي ده ته (نسبت د) ولد،

تفسیر: کتابیانو د خپلو انبیاوو علیهم السلام په تعریف کې له مبالغې څخه کار آخیست، او له حدودو د باندې وتل، او خپل انبیاء علیهم السلام یې د الله ځامن بلل، نو الله تعالی فرمایي چې: «د دین په خبرو کې مبالغه مه کوئ ! هومره خبره چې محققه وي له هغې څخه څه زیاتوالی مه کوئ ! او د الله تعالی د مقدس شان په نسبت هم هغه خبرې وایئ؛ چې بیخي رښتیا او محققې دي !، او له خپله ځانه هیڅ شی مه وایئ !، له تاسې ځنې څومره لویه غلطي شوې ده، چې عیسی علیه السلام ته چې د الله جل جلاله رسول او د الله جل جلاله په حکم پیدا شوی دی؛ د وحیې په خلاف د الله جل جلاله ځوی وایئ، او د درې معبودانو معتقدان شوي یئ، یو الله جل جلاله، دویم عیسی علیه السلام، درېم بي بي مریم رضي الله تعالی عنها، له داسې خبرو ځنې مو خولې ونیسئ !، او الله تعالی واحد احد دی، هیڅوک له ده سره شریک نه دی،

او نه يې څوک اولاد کېدی شي، د ده پاک ذات له دې ګردو شيانو ځنې پاک او منزه او مقدس دی، دا ګردې خبرې له دې نه پيدا شوي دي، چې تاسې د وحي اطاعت ونه کړ، که تاسې د وحي اطاعت او متابعت کولی؛ نو الله تعالی ته به مو د اولاد نسبت نه کولو.

او د دې معبودانو په منلو سره به مو ځانونه صراحتاً نه مشرکانول، او د سيد الرسل محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم او د افضل الکتب قرآن مجيد او فرقان حکيم تکذيب به مو نه کولو، او داسې پاخه کافران به نه کېدئ.

فائده: د کتابيانو يوې ډلې د عيسی عليه السلام رسالت هم ونه مانه، او د ده په وژلو پسې يې ملاوې وترلې، چې د هغه ذکر پخوا تېر شو، بلې ډلې له دې نه تېرې کړې، عيسی عليه السلام يې د الله ځوی وګڼه، او دواړه ډلې کافرانې شوې، د دې دواړو فرقو د ګمراهی سبب همدا شوه چې له وحيې ځنې يې مخالفت وکړ، له دې نه ښکاره شوه چې نجات يوائې د وحيې په متابعت پورې منحصر دی.

لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۱۳۲﴾

خاص الله لره دي هر هغه څه چې په آسمانونو کې دي (له علوياتو) او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي (له سفلياتو سره له آسمانونو او ځمکې ملکاً، خلقاً او عبيداً) او بس دی الله وکيل (کار جوړوونکی).

تفسير: يعنې په آسمانونو او ځمکو کې له لاندې تر پاس پورې هر څه شيان چې دي؛ ټول د الله تعالی مخلوقات، مملوکات، او بندګان دي، او بيا ووايئ چې: د الله تعالی شريک او ځوی څوک او څرنګه کېدی شي؟ او الله تعالی د ګردو کارونو جوړوونکی دی، او د ګردو کارونو د جوړولو لپاره هم هغه بس او کافي دی، بل هيڅا ته حاجت نشته، نو اوس ووايئ چې: الله جل جلاله به شريک يا ځوی ته څرنګه محتاج شي؟.

خلاصه يې دا چې نه په کوم مخلوق کې د ده د شريک کېدلو څه قابليت او لياقت شته، او نه د ده په پاک ذات کې د هغه د ځاييدلو څه امکان شته، او نه دې ورته څه اړتيا (احتياج) او حاجت لري، نو له دې نه دا معلومه شوه چې له مخلوقاتو ځنې کوم يوه مخلوق ته د الله تعالی شريک يا ځوی ويل د هغه چا کار او فکر دی؛ چې له ايمان او عقل دواړو څخه محروم او بې برخې وي.

فائده: له پاس مضمون څخه دا خبره ښکاره شوه: هر هغه څوک چې د الله تعالی لپاره ځوی يا بل کوم شريک پيدا کوي؛ نو دی په حقيقت کې الله تعالی د ګردو موجوداتو پيدا کوونکی نه ګڼي، او ګرد موجودات د پاک الله مخلوق نه بولي، او هم الله جل جلاله د ګردو حاجتونو د پوره کولو او کار جوړولو لپاره کافي نه ګڼي، او ګواکې الله جل جلاله د الوهيت له مرتبې څخه وباسي، او په مخلوقاتو او ممکناتو کې يې داخلوي.

لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ ؕ

له سره ننګ (او عار) نه کوي مسيح له دې نه چې شي بنده لپاره د الله، او نه (ننګ او عار کوي) پرښتې چې مقربې دي (د الله له بندګۍ څخه).

تفسير: يعنې د الله جل جلاله عبوديت، عبادت او د ده حکمونه په ځای راوړل يو اعلی درجه شرافت او عزت دی، د دې لوی نعمت د قدر، اهميت او د ضرورت پوښتنه دې له مسيح عليه السلام او نورو انبياوو عليهم السلام او مقربينو ملائکو څخه وکړی شي! نو دوی د الله تعالی په عبادت ولې شرميږي؟ او عار او ننګ ترې کوي؟ هو! ذلت او بېغيرتي خو د ما سوا الله په بندګۍ کې ده، لکه چې نصرانيان مسيح عليه السلام ته «ابن الله» وايي، او خپل معبود يې

ټاکلی دی، او مشرکان پرښتې د الله تعالی لونې ګڼي، د دوی او د بتانو عبادت کوي، او د دوی لپاره تل ترتله عذاب او ذلت او سپکاوی شته.

وَمَنْ يَّسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ اِلَيْهِ جَمِيْعًا ﴿۱۷۲﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ۚ وَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْتَنْكَفُوْا وَاسْتَكْبَرُوْا فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ وَّلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۷۳﴾

او هر هغه څوک چې ننګ (او عار) وکړي له عبادت د دغه (الله) څخه او تکبر (لويي وکړي) نو ژر به راجمع کړي (الله) دوی طرف خپل ته ټول (لپاره د جزا ورکولو). پس هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه) پس پوره به ورکړي (الله) دوی ته اجرونه د دوی (چې وعده یې ورسره کړی شوې ده)، او زیات به (هم) ورکړي دوی ته له مهربانۍ خپلې، او هغه کسان چې ننګ (او عار) یې کړی وي، او تکبر (لويي) یې کړي وي (د الله له عبادت څخه) نو عذاب به ورکړي دوی ته (الله) عذاب دردناک، او نه به مومې دوی ځان ته بې له الله هیڅ دوست (نافع په آفاتو کې) او نه هیڅ مددګار (د افع د عذاب).

تفسیر: یعنې هر هغه سړی چې د الله تعالی له عبادت څخه سرکښي کوي، او غاړه تري غړوي؛ نو دی به له سره بې پوښتنې پاتې نه شي، بلکه یوه ورځ به دوی ګرد د الله تعالی په مخ کې ټول کړل شي، او حساب به ورسره وشي، نو هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي، او ښه کارونه یې کړي وي، یعنې د پاک الله بندګي یې پوره په ځای کړي وي؛ نو دوی ته به د خپلو ښو کارونو پوره اجر او ثواب ورکړل شي، بلکه د الله تعالی په فضل او مهربانۍ به د هغوی له ثواب څخه زیات نور خورا لوی لوی نعمتونه هم ورکړی شي، او هغه کسان چې د پاک الله له عبادت نه یې سر غړولی وي، په لویو عذابونو کې به آخته شي، او هیڅوک به له هغو کسانو په داسې سختې کې هم د دوی خیر غوښتونکی او مددګار نه وي؛ چې دوی هغه د الله تعالی په بندګۍ کې شریک کړی وو.

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ نُوْرًا مُّبِيْنًا ﴿۱۷۴﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِيْ رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ ۙ وَّيَهْدِيْهِمْ اِلَيْهِ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۱۷۵﴾

ای خلقو ! په تحقیق راغلی دی تاسې ته برهان (دلیل، سند، حجت چې محمد دی) له (طرفه د) رب ستاسې، او نازل کړی دی مونږ تاسې ته نور (رڼا) واضح ښکاره چې (قرآن دی). پس هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی په الله او منګولې یې خښې کړي دي په (دین د) ده؛ نو ژر به داخل کړي (الله) دوی په رحمت کې چې له جانبه د ده دی، او په مهربانۍ کې او هدایت به وکړي (وښیي الله) دوی ته خپل لوري ته لاره سمه صافه (د اسلام او اطاعت).

تفسیر: پخوا له دې نه د الله جل جلاله د وحي او بالخصوص د قرآن عظیم د عظمت او د هغه د حقانیت بیان او د هغه د متابعت د تاکید ذکر وو، او د هغه په ذیل کې د مسیح علیه السلام د الوهیت او د ابن الله توب ابطال څخه وروسته بیا د هم هغه اصلي او ضروري خبرې په نسبت ګردو ته تاکید کیږي: چې ای خلقو ! تاسې ته د رب العالمین جل جلاله له

خوا کامل حجت او روښانه رښا در رسېدلې ده، چې ستاسې هدايت ته بيخي کافي او وافي ده، يعنې قرآن عظيم الشأن، نو هر هغه څوک چې پر الله جل جلاله باندې ايمان راوړي او دغه مقدس کتاب مضبوط ونيسي؛ نو دی به د الله جل جلاله په رحمت او فضل کې داخليږي، او هر څوک چې له هغه څخه مخالفت کوي، د دوی ګمراهي او خرابي فقط همدغه مخالفت ګڼل کيږي.

يَسْتَفْتُونَكَ ۖ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ ۚ

طلب د فتوی کوي دوی له تانه (ای محمده ! د کلالې) نو ووايه: چې الله فتوی درکوي تاسې ته په (ميراث) د کلالې کې.

تفسير: د «کلاله» معنی کمزور او ضعيف او دلته ترې مراد هغه مړی دی؛ چې د ده په وارثانو کې پلار او اولاد هيڅوک نه وي، لکه چې پخوا له دې هم بيان شو، ځکه چې اصلي وارث والد او ولد دی، څوک چې دا نه لري؛ نو د ده حقيقي ورور او خور د ځوی او لور حکم لري، او که «حقيقي» نه وي، نو همدا حکم په «علاتي» کې هم دی: چې په پلار کې سره شريکان وي، که يوه خور وي نيمايي، که دوه خويندې وي دوه ثلثه، که ورور او خور دواړه وي؛ نو نارينه ته دوه برخې او ښځې ته يوه برخه ورکړيږي، که تش يو ورور وي، خور هيڅ نه وي؛ نو دی د خور د مال وارث کيږي، يعنې ده ته هيڅ يوه برخه معينه نه ده، بلکه ټول وړي، ځکه چې هغه «عصبه» دی، لکه چې په راتلونکي آيت کې دا ګرد صورتونه مذکور دي، اوس پاتې شو، هغه خور او ورور چې يواځې په مور کې شريکان وي، چې دوی ته «أخيافي» وايي، نو د هغه حکم دغه سورت په شروع کې فرمايل شوی دی، او برخه يې معينه ده.

إِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ وَلَهُ أُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ ۚ

که يو سړی مړ شي چې نه وي ده لره ځوی (او نه پلار) او وي ده لره يوه خور (عينيه يا علاتيه) نو (مقرر) دی دې ته نصف (نيم) د هغه مال چې پريښی وي (مړي).

تفسير: يعنې که يو سړی مړ شي او يوه خور ولري، نه ځوی ترې پاتې وي او نه پلار؛ نو دې ته د ميراث نيمايي مال ور رسيږي.

وَهُوَ يَرِثُهَا إِن لَّمْ يَكُن لَّهَا وَلَدٌ ۚ

او دا ورور ميراث وړي له دې خور څخه که نه وي دې لره ځوی (ځوځات).

تفسير: يعنې که د دې په عکس کومه ښځه بې ولده مړه شي، او له دې ځنې «أعياني» يا «علاتي» ورور پاتې شي، نو دا ورور د خپلې خور د مال وارث کيږي، ځکه چې «عصبه» دی، او که له دې ښځې ځنې ځوی پاتې وي؛ نو ورور ته يې هيڅ نه ور رسيږي، او که ترې لور پاتې وي، نو هغه مال چې د لور د برخې ورکولو څخه وروسته پاتې وي؛ ورور ته ورسيږي، که «أخيافي» ورور يا خور يې پريښي وي، نو هغه ته شپږمه برخه معينه ده، لکه د دې سورت په ابتداء کې ارشاد وشو.

فَإِن كَانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ ۚ

نو که وي دا خويندې دوه (يا زياتې) نو مقرر دی دواړو ته دوه ثلثان له هغه ماله چې پريښی دی (مړي).

تفسير: او كه دوه يا له دوو څنې زياتې خويندې تري پاتې شي، نو دوی ته دوه ثلثه رسيږي.

وَإِنْ كَانُوٓا۟ إِخْوَةً رِّجَالًا وَنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ ٱلْأُنثَيَيْنِ

او كه وو دا (وارثان) وروڼه او خويندې نارينه او ښځې؛ پس مقرر دی هر نارينه ته په اندازه د برخې د دوو ښځو.

تفسير: يعنې څه وروڼه او څه خويندې پرېږدي، نو ورور ته دوه برخې او خور ته يې يوه برخه ور رسيږي، لكه چې د اولاد حكم دی.

يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ أَن تَضِلُّوا۟

بيانوي الله تاسې ته (احكام د ميراث) چې ګمراه (او خطا) نه شئ تاسې.

تفسير: يعنې رحيم او كريم الله محض د خپلو بندګانو د هدايت او د دوی د فلاح او نجات لپاره خپل صادق او حق احكام بيان فرمايي، لكه چې دلته يې د «كلاله» ميراث بيان كړی دی، الله جل جلاله له ګردو څخه غني او بې نياز دی، نو كه اوس څوك د الله تعالى د داسې مهربانۍ قدر ونه كړي، بلكه د ده د حكم څخه انحراف وكړي؛ نو هغه تل تر تله كمبخت او شقي پاتې كيږي.

له دې څنې دا رابنكاره شوه چې بندګانو ته ښايي چې د ګردو احكامو متابعت وكړي، او كه په كوم معمولي او جزوي امر كې هم مخالفت كوي، نو ګمراه كيږي، نو بيا هغه كسان چې د ده په پاك ذات او په كمالیه وو صفاتو كې د ده د حكم څخه مخالفت كوي، او خپل اعتقاد او خپله غوښتنه د الله جل جلاله په مقابل كې د ځان مقتدا ګرځوي، د هغو د ضلالت او خباثت درجه همدې نه قياس كړئ، چې په څه اندازه به وي.

وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌۢ ﴿١٧٦﴾

او الله پر هر شي ښه عالم دی (نو د بندګانو مصالح هم په حيات او هم په ممات كې و رته معلوم دي).

تفسير: پخوا له دې نه معلومه شوې وه، چې الله تعالى د خپلو بندګانو هدايت خوښوي، اوس فرمايي چې ده ته ټول شيان معلوم دي، نو مطلب يې داسې شو، چې په ديني مسائلو كې كه تاسې ته كوم ضرورت پېښ شي، د هغه پوښتنه كوئ ! كله چې د دې ارشاد په تعميل كې لويو اصحابو رضي الله تعالى عنهم د «كلاله» د مسئلې پوښتنه وكړه؛ نو د هغوی د تحسين په لوري، او وروسته له دې نه د داسې سوالاتو كولو په نسبت د ترغيب اشاره فهميږي، او دا هم تري مفهوميږي، چې الله جل جلاله ته ټول شيان معلوم دي او تاسې ته نه؛ نو دا هم نشئ ښوولئ چې په «كلاله» او په نورو صورتونو كې هغه برخې چې مقررې شوي دي، د هغوی حقيقي علت څه شی دی؟ او بيا د بني آدمانو عقل د دې خبرې قابل كله كېدی شي؛ چې د حق سبحانه وتعالى په ذات او صفاتو كې په خلاف د وحيې جرأت وكړي، كله چې دوی د خپلو تعلقاتو او د اقاربو او د خپلوانو له فرق او امتياز څخه عاجز او ناتوانه دي، نو د الله تعالى په بې مثله او بې سياله او بې شريكه ذات او صفاتو باندې د پاك الله له ښوونې څخه پرته څرنګه وپوهيږي؟ او په څه ډول يې رابنكارولی شي؟.

تمت سورة «النساء» بفضل الله خالق الأرض والسماء !

ونرجو منه فی الدنيا النعماء وفی الآخرة حسن اللقاء !

سُورَةُ المَائِدَة

د«المائدة» سورت مدني دی، پرته له (۳) آیته چې په عرفات په «حجة الوداع» کې نازل شوی دی، په تلاوت کې (۵)، او په نزول کې (۱۱۲) سورت دی، (۱۲۰) آیتونه او (۱۶) رکوع لري. وروسته د «الفتح» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ ۚ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) پوره کړئ تاسې ګرد عهدونه.

تفسیر: له عقودو څخه ټول لوظونه او پیمانونه مراد دي، برابره خبره ده چې هغه د الله تعالی سره وي، او که له مخلوق سره وي، له همدې تقریر سره سم د عقودو او مواعیدو په تفسیر کې هغه مختلف شیان چې له اسلافو ځنې منقول دي؛ هغه ټول سره تطبیقیږي، او په دې آیت کې د (ای مؤمنانو) د خطاب له لفظ څخه زیات لطف حاصلیږي.

اُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيْمَةُ الْاَنْعَامِ

حلال کړی شوي دي تاسې ته (پس له شرعي ذبحې بې ژبي) چارپایان د انعامو (لکه اوښان، غوایان او پسونه).

تفسیر: په (۶) جزء د «النساء» د سورت په (۱۶۰) آیت (۲۲) رکوع کې مونږ ولوستل چې: پر یهودانو باندې د دوی د ظلم او بد عهدۍ په سزا ځینې حلال او طیب شیان حرام، او دوی ترې محروم کړی شوي وو ﴿فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبٰتٍ﴾ چې تفصیل یې د «الأنعام» په سورت کې راځي، دې مرحومه امت ته د عهدونو له ایفاء له هدایت سره؛ له دې شیانو ځنې د انتفاع اجازه هم ورکړی شوې ده، یعنې اوښ، غویي، پسه، وزه او له دې جنسه څخه ګرد أهلي او وحشي (کورني او ځنګلي) چارپایان لکه هوسی، غش غویي او نور ستاسې لپاره په هر حالت کې حلال کړی شوي دي، بې له هغو حیواناتو یا حالاتو چې د هغو په متعلق؛ یا حق تعالی په قرآن عظیم، یا د خپل نبي کریم صلی الله علیه وسلم په ژبه د ده په احادیثو کې ستاسې د جسماني یا روحاني یا اخلاقي مصالحو له امله ممانعت فرمایلی وي.

اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ

مګر (حلال نه دي) هغه چې لوستې به شي په تاسې باندې (وروسته له دې نه).

تفسیر: غالبا له دې څخه مراد هغه شیان دي چې د همدې سورت په درېم آیت کې بیان کړی شوي دي، یعنې ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ﴾ څخه نیولې تر ﴿ذٰلِكُمْ فِسْقٌ﴾ پورې.

غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ۭ

حال دا چې نه یئ تاسې حلال ګڼونکي د ښکار حال دا چې تاسې احرام تړونکي یئ !.

تفسير: د مُحرِم لپاره يواځې د وچې د ساکښانو (ذي روحو) ښکار روا نه دی، او د سيند د ښکار اجازه ورته شته، کله چې د احرام دومره رعايت شوی دی، چې په هغه کې ښکار کول ممنوع ګرځول شوي دي، نو د حرم شريف د حرمت او عزت لحاظ ښايي له دې نه په درجو زيات وي، يعنې د حرم د ساکښانو (ذي روحو) ښکار د محرم او غير محرم د ګردو لپاره حرام وي، لکه چې د ﴿لَا تُحِلُّوا شَعَآئِرَ اللَّهِ﴾ له عمومه څخه معلوميږي.

إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ ①

بېشکه الله حکم کوي (په تحليل او تحريم کې) د هر هغه څه چې اراده وفرمايي.

تفسير: يعنې هغه الله جل جلاله چې ګرد مخلوقات يې پيدا کړل، بيا يې پخپل حکمت او کمال سره د دوی په منځ کې د مراتبو فرق ښکاره کړو، په هره نوعه کې يې سم د هغه له استعداده بېل بېل فطري خواص او قواوې په وديعت کېښودې، د حيات او د ممات مختلف صورتونه يې تجويز کړل، بېشکه همغه الله جل جلاله ته پخپلو مخلوقاتو کې دا حق هم حاصل دی؛ چې د خپل کامل اختيار، محيط علم، بالغه حکمت په اقتضاء هر هغه شی چې هر چا ته په هر حالت کې اراده وفرمايي؛ حلال يا حرام يې کړي. ﴿لَا يُسْئَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْئَلُونَ﴾.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحِلُّوا شَعَآئِرَ اللَّهِ

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) مه ګڼئ حلال (مه بې حرمته کوئ !) شعائر (نښې د دين) د الله (چې د حج مناسک دي).

تفسير: يعنې هغه شيان چې د حق تعالى د عظمت او معبوديت لپاره خاص علامات او نښې مقررې شوي دي؛ د هغوی بې حرمتي مه کوئ ! چې دې کې حرم محترم، بيت الله شريف، جمرات، صفا، مروه، هدي، احرام، مساجد، آسماني کتابونه او نور ګرد حدود او فرائض او ديني احکام شامل دي، وروسته له دې علائمو او نښو ځنې د ځينو مخصوصو شيانو ذکر فرمايي چې په مناسکو پورې تړلي دي، لکه چې له دې آيت څخه پخوا په بل آيت کې د مُحرِم ځينې احکام ذکر شول.

وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ

او مه (بې عزته کوئ !) مياشته حرمت والا (په قتال او جدال سره).

تفسير: حرمت والا مياشتې څلور دي، لکه چې د «التوبة» د سورت په (۵) رکوع (۳۶) آيت ﴿مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ﴾ کې مذکور دی، او هغه (محرم، رجب، ذي القعدة، ذي الحجة) دي، او تعظيم او احترام يې دا دی، چې ښايي په دې مياشتو کې له نورو مياشتو ځنې د نېکۍ او تقوی زيات التزام وکړ شي !، او ښايي چې له شر او فساد څخه د ځان ژغورلو (بچ کولو) لپاره ډېر اهتمام وشي !، خصوصا نه ښايي چې حُجّاج وربړوي، يا د بيت الله له حج څخه يې ستانه (واپس) کړي.

اګر که دا امور د کال په دولسو مياشتو کې واجب العمل دي، مګر بالخصوص په دې محترمو مياشتو کې پرې ډېر زيات تاکيد شوی دی.

وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَآئِدَ

او مه (بې حرمته کوئ ! د) هغه ساکښ (ذي روح) چې د کعبې هديه وي (بې قلادې) او نه هغه (هديه) چې په غاړه کې يې قلادې وي (او د کعبې په لوري بيولې کيږي).

تفسير: (قلائد) د قلاده جمع ده، چې له هغې څخه هغه طوق يا هار يا غاړکی يا غړوندی مراد دی؛ چې د «هدي» د حيوان په غاړه کې د علامې او نښې په ډول اچول کيږي، څو د «هدي» حيوان پرې وپېژندل شي، او له تعرض څخه مأمون وي، او ليدونکي ته د هسې عمل د کولو ترغيب هم وشي، قرآنکريم د دې شيانو تعظيم او حرمت باقي پرېښود، او د «هدي» او د هغې د علائمو او نښو سره تعرض کول يې ممنوع کړل.

وَلَآ آٰمِّينَ ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّن رَّبِّهِمْ وَرِضْوَٰنًا

او مه (بې عزته کوئ !) قصد کوونکي (ورتلونکي) د کور حرمت والا ته (د حج يا د عمرې لپاره)، حال دا چې غواړي دوی فضل له (جانبه د) رب خپل او (د ده) خوښي.

تفسير: په ظاهر کې د غه ويار (فخر) يواځې د مسلمانانو دی، يعنې هر هغه مخلص مسلمان چې د حج يا د عمرې لپاره ځي؛ د هغه تعظيم او احترام وکړئ ! او د دوی په لاره کې ډبرې مه اچوئ ! او ربړ (تکليف) مه ور رسوئ !.

وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَٱصْطَادُوا۟

او کله چې (له احرامه څخه) حلال شوئ پس ښکار کوئ تاسې (که مو خوښه وي).

تفسير: يعنې د ښکار هغه ممانعت چې د احرام په حالت کې کړی شوی وو، د احرام له اتمام نه وروسته پاتې نشو.

وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ قَوْمٍ أَن صَدُّوكُمْ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ أَن تَعْتَدُوا۟

او باعث دې نکړي تاسې دښمني د يوه قوم (لدی سببه) چې منعه کړي دي دوی تاسې لره له مسجد حرام څخه؛ په دې چې تاسې تجاوز وکړئ (پر هغوی په انتقام اخيستلو).

تفسير: يعنې (د کافر قوم بغض او دښمني دې تاسې دې ته اړ او باعث نه کړي؛ چې له خپله حده تېر شئ، او د دې تېرو شيانو حرمت ونه ساتئ)، هغه شعائر چې په لومړني آيت کې د الله تعالى له خوا لوی او محترم ښودل شوي وو، د مشرکانو له لوري په شپږم کال کې توهين او سپک شول، رسول الله مبارک نږدې له (۱۵۰۰) اصحابو سره د «ذي القعدة الحرام» په مياشت کې محض د عمرې د اداء کولو په قصد له مدينې منورې څخه رهي (روان) شول، کله چې «حديبيې» ته ورسېدل، مشرکانو دوی د دې اسلامي عبادت له اداء کولو څخه منع کړل، دوی نه د احرام حالت، نه د کعبې شريفې د حرمت، نه د «شهر الحرام» د احترام، نه د «قلائد» او نه د «هدي» څه لحاظ او خاطر وکړ.

مسلمانانو د «شعائر الله» له دې توهين او د مذهبي فرائضو له دې ممانعت څخه چې د دې ظالم او وحشي قوم له لوري وشو؛ که هر څومره د غيظ، غضب، بغض او عدوات اظهار کړی وی؛ حق يې درلود (لرلو) او بېځايه نه وو، او که د دوی په مقابله کې د انتقام په ځوښ (جوش) کې له سده وتلي وی، او په کوم اقدام باندې يې لاس پورې کړی وی؛ هم ښاييدل او ممکن وو، ليکن د اسلام محبت او عدوات هم په عدل، انصاف او حقانيت بنا دي، لکه چې قرآن کريم د داسې جابرو او ظالمو دښمنانو په مقابل کې هم مسلمانانو ته حکم ورکړ چې: «خپل جذبات دې تر اداري لاندې ونيسي»، ځکه چې انسان د ډېر محبت او زيات عداوت په وخت کې په ځوښ (جوش) راځي، او د خپل ځان اداره هيڅ نشي کولی، او له حده تېری کوي، نو ځکه يې وفرمايل چې: ښايي د خورا (ډېر) سختو دښمنانو عداوت او دښمني هم تاسې د عدل او انصاف له دائرې څخه ونه باسي، او د عدل او انصاف واګې مو له لاس څخه خوشې نه شي.

وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ

او مرسته کوئ تاسې یو تر بله په نېک کار او تقوی (پرهېزګاری) کې، او مه کوئ تاسې مرستې یو تر بله پر ګناه او پر عدوان (ظلم تجاوز).

تفسیر: که کوم سړی بالفرض د انتقام په ځوښ (جوش) کې راشي، او تېرۍ وکړي؛ نو د هغه د ممانعت تدبیر دا دی چې دمسلمانانو جماعت دې نه یواځې له ده سره په هغه ظلم او عدوان کې مرسته ونه کړي، بلکه ګرد سره دې لاس یو، او د نیکۍ او تقوی مظاهره دې وکړي ! (او د ده د زیادت او بې اعتدالۍ مخه دې ونیسي !.

وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ۝

او ووېرېږئ تاسې له الله ځخه، بېشکه چې الله ډېر سخت دی عذاب (د ده متخلفینو لره).

تفسیر: یعنې د حق پرستۍ او انصاف خوښولو او د ګردو ښو اخلاقو بیخ د پاک الله ځخه وېره ده، او که د الله جل جلاله ځنې وېره، او په نېکۍ کې تعاون او په بدۍ کې عدم تعاون نه وی؛ نو د عمومي عذاب د وقوع اندېښنه وه (أعاذنا الله منه !)، ځرنګه چې الله جل جلاله د هغو شیانو د بیان اراده وفرمایله، چې وعده یې په ﴿إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ﴾ کې کړی شوې وه، نو دا آیت نازل شو:

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَن تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ ۚ ذَٰلِكُمْ فِسْقٌ

حرام کړی شوی دی پر تاسې (خوراک د) مردار (حیوان) او (د بهیدونکي) وینې، او د غوښې د خنځیر، او د هر هغه (حلال کړی شوي حیوان) چې آواز کړی شوی وي بې له (نامه) د الله (د بل شي) په هغه باندې (د ذبحې په وخت کې)، او د خپه کړی شوي، او د کوتک (او د نورو) وهلی شوي، او د غورځېدلي (له پاسه ژورې ته)، او د ځیرې شوي په وهلو د ښکر، او د هغه چې (تري) خوړلې وي ځناورانو، مګر (روا دی) هغه چې حلال (یې) کړئ تاسې (او روح په کې وي)، او (حرام دی) هغه چې ذبح کړی شوي وي (په نامه د کوم ممنوعه ځای یا شي) او دا چې تقسیم وکړئ تاسې په غشو د قمار سره، دغه (تېر محرمات یا تقسیم یا تفاؤل په دې غشو سره ګناه او) فسق دی.

تفسیر: یعنې حرام کړی شوي دي پر تاسې دغه لس شیان:

۱ - «میتة» یا مرداره چې بې ذبحې مړه شوي وي (بې له ماهي او ملخه) حرامه ده، «میتة» هغه واجب الذبح حیوان ته ویلی شي، چې بې له حلالولو په خپل مرګ مړ شي، او وینه او غریزي حرارت یې په غوښه کې محتقن او جذب شوې پاتې شي، چې د هغه له زهریله توب او ګندګۍ ځنې څو راز بدني او دیني ضررونه پیدا کیږي.

۲ - د بهیدونکي وینې خوراک حرام دی، لکه چې په (۸) جزء د الأنعام په (۱۴۶) آیت (۱۸) رکوع کې ﴿أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا﴾ راغلي دي.

۳ - د خنځیر د غوښې خوراک حرام دی، او د خنځیر د نورو ګردو اجزاوو ځخه تر نوکانو او ویښتانو پورې هم هر راز انتفاع ناروا ده.

۴ – د هغه مذبوح خوراک حرام دی؛ چې بې د الله تعالی له نامه څخه د بل چا نوم پرې یاد کړی شوی وي.

۵ – د هغه مړه خوراک حرام دی؛ چې په خپه کېدلو (زندۍ کېدلو) يې روح (سا) ختلې وي.

۶ – د هغه مړه خوراک حرام دی، چې په کوتک یا په غونډه تیږه (ګټه) چا وهلی وي.

۷ – د هغه مړه خوراک حرام دی؛ چې لوېدلی وي له غره یا له کمره یا په کوهي کې.

۸ – د هغه مړه خوراک حرام دی؛ چې بل غوایي په ښکر وهلی وي.

۹ – د هغه مړه حیوان خوراک حرام دی؛ چې درندګانو تړې څه اندازه غوښه خوړلې وي او بیا يې روح ختلی وي، (مګر هغه مړ له دې پنځو واړو وروستنیو څخه چې ژوندی پاتې وي، او بیا يې په نامه د الله جل جلاله ذبح کړي، نو د هغه خوراک روا دی).

۱۰ – د هغه مړه خوراک حرام دی؛ چې په هغو تیږو (ګټو) ذبح کړی شوی وي چې د «کعبې شریفې» نه ګېر چاپېره ولاړې دي، او مشرکانو به د تعظیم لپاره پرې قربانی کولې، یا ترې مطلق بتان مراد دي.

لږ څه وړاندې د «هدي» د ادب او احترام ذکر تېر شو، یعنې هغه ساکښ (ذي روح) چې د تقرب الی الله په نیت د الله تعالی له ګردو څخه د پخوانی معبد مکې معظمې ته د نذر په ډول بېول کېدل، او هلته به ذبح کېدل، د هغه په مقابل کې د هغه ساکښ (ذي روح) ذکر يې وفرمایه، چې د بل چا په نامه یا د بیت الله څخه ما سوی په بل کوم ځای کې د بل چا یا د بل ځای د تعظیم لپاره ذبح کیږي (موضح القرآن).

په دې دوهم صورت کې د نذر نیت هم في الحقیقت د غیر الله په نامه وي، اګر که د ذبحې په وخت کې له ژبې څخه «بسم الله، الله اکبر» هم وویل شي، سم له دې تقریر سره د ﴿وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ﴾ او د ﴿وَمَا ذُبِحَ عَلَى ٱلنُّصُبِ﴾ فرق واضح شو (ابن کثیر رحمه الله).

﴿وَأَن تَسْتَقْسِمُوا۟ بِٱلْأَزْلَٰمِ﴾ : «او حرام کړی شوي دي دا چې تقسیم وکړئ تاسې د قمار په غشو سره»، ځینې مفسرین د «ازلام» ځنې د تقسیم غشي مرادوي، چې د جاهلیت په زمانه کې د ذبحې غوښې او د نورو تقسیم لپاره استعمالېدل، او هغه د قمار (جواری) یو صورت وو، لکه نن ورځ د کاغذ اچولو (لاټری) رسم دی، لیکن د «حافظ عماد الدین ابن کثیر رحمه الله» او نورو محققینو په نزد دا خبره راجحه ده، چې له «ازلام» څخه غشي مراد دي، چې په هغه سره د مکې معظمې مشرکانو دکوم اشکال او تردد په وخت کې به د خپلې ارادې او د چارې فیصله او پربکړه پرې کوله، دا غشي به يې په بیت الله کې د قریشو خورا (ډېر) لوی بت (هُبل) سره کېښودل، د دې غشو پر ځینو باندې داسې لیکل شوي وو «أمرني ربي» = «حکم راکړی دی ما ته رب ځما»، او پر ځینو يې داسې لیکلی شوي وو «نهاني ربي» = «منع کړی یم زه رب ځما» همداسې پر هر غشي یوه قیاسي او اټکلي خبره لېکلې شوې وه.

کله چې به دوی ته په کومه خبره کې څه تردد او اندېښنه پېښېده؛ نو دوی به تلل او یو غشی به يې راخیست، که د «أمرني ربي» والا غشی به يې په لاس ورته؛ نو په کار به يې شروع کوله، او که مخالف له هغه به يې په لاس ورته؛ نو له کار ځنې به تښتېدل، وعلی هذ القیاس ګواکې دا له بتانو ځنې یو راز مشوره او استعانت وو، څرنګه چې د دې رسم بنا پر خالص شرک، جهل، اوهام پرستی، او په افترا علی الله باندې وه؛ نو ځکه «قرآن کریم» په متعددو مواقعو کې په نهایت تغلیظ او تشدید سره د هغه حرمت ښکاره کړ.

سم له دې تقریر سره د «ازلام» ذکر له «النصب» سره مناسبت پیدا کړ، او دا يې له مرداري وینې او خنزیر او نورو ډېرو خبیثو او ګنده وو شیانو د تحریم له سلسلې سره منسلک، او دا يې راښکاره کړه چې د دوی معنوي او اعتقادي نجاست او خباثت، له دې شیانو له پلیتی ځنې لږ نه دی، لکه چې په بل آیت کې د «رجس» له اطلاقه څخه دا خبره لا ښه څرګندیږي.

اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ

نن ورځ نا اميده شول هغه کسان چې کافران شوي دي له (ابطاله د) دين ستاسې، نو مه ويرېږئ له دغو (کفارو نه اې مؤمنانو) او وويرېږئ له ما نه (چې ستاسې خالق يم).

تفسير: دا آيت هغه وخت نازل شو چې د ژوندانه په ټولو څانګو او د هدايت د علومو د هرې موضوع په متعلق کې اصول او قواعد داسې ممهد، او د فروعو او جزئياتو بيان هم په هومره کافي تفصيل او جامعيت سره منظم شوی وو؛ چې د اسلام پيروانو ته تر قيامت پورې د الهي دين څخه ما سوا بل کوم دين بيخي د منلو او د التفات وړ (مستحق) او لايق نه وو پاتې شوی.

مکه معظمه فتحه شوې وه، اصحاب کرام رضوان الله تعالى عليهم أجمعين سره له کاملې وفا له خپل الله «جل وعلا شأنه» سره خپل عهد او پيمان پوره کولو، هغه قوم چې ګنده او پليتو غذاګانو او د مردارو حيواناتو په خوړلو عادت درلود (لرلو)؛ له مادي او معنوي طيباتو څخه خوند اخيستی وو، د الله جل جلاله د شعائرو احترام په زړونو کې راسخ او ټينګ شوی وو، د ګومانونو او اوهامو تارونه او جالونه او د انصابو او ازلامو عقيدې بيخي شلېدلې وې، او شيطان د تل لپاره له دې څخه چې په «جزيرة العرب» کې يې عبادت وشي؛ بيخي مأيوس شوی وو، نو نظر دغو حالاتو ته ارشاد وشو: ﴿اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ﴾ .

يعنې نن کفار له دې خبرې څخه مايوس کړی شوي دي، چې تاسې له خپل قيّم دين څخه واړوي، او بيا مو د «انصاب» او «ازلام» او نورو په لوري بوځي، يا د اسلامي دين د مغلوبولو توقعات په خپلو زړونو کې وګرځوئ، يا په ديني احکامو کې د تحريف او تبديل اميدونه ولرئ، نن تاسې ته يو کامل او مکمل دين در رسېدلی دی، چې وروسته په هغه کې د هيڅ يو قسم ترميم ضرورت او امکان نشته، د الله جل جلاله انعام پر تاسې شوی دی، چې وروسته له دې نه ستاسې له طرفه د هغه د ضايع کېدو هيڅ اندېښنه نشته، پاک الله تر ابده پورې همدا د اسلام دين ستاسې لپاره غوره کړی دی، نو ځکه وروسته له دې نه د کوم ناسخ د راتللو احتمال هم نه دی پاتې.

په داسې حالاتو کې تاسې ته هيڅ سبب او دليل نشته، چې له کفارو ځنې وويرېږئ، ولې چې کفار تاسې ته هيڅ نقص او تاوان نشي در رسولی، هو ! د هغه لوی محسن او حقيقي منعم له قهره او ناراضی څخه تل وويرېږئ !، چې د ده په واک او اختيار کې ستاسې فلاح او نجاح او ګټه او زيان دی.

ګواکې په ﴿فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ﴾ کې يې په دې مطلب تنبيه فرمايلې ده، چې وروسته له دې نه مسلمانانو ته د کفارو له لوري تر هغه وخته پورې هيڅ وېره او اندېښنه نه ده پکار؛ تر څو چې په دوی کې د الله «جل وعلا شأنه» وېره، او د تقوی شان موجود وي.

له ﴿اَلْيَوْمَ﴾ ځنې دلته يوه معينه ورځ نه ده مقصود، بلکه حاضره زمانه، او ورپورې متصلې راتلونکې زمانې مقصد دی، او ځينې ترې يوم النزول مرادوي؛ چې هغه د هجرت د نهم کال د ذي الحجې د نهمې نېټې د جمعې او عرفې مازديګر وو.

اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ

نن ورځ مکمل (پوره) کړ ما تاسې ته دين ستاسې (اصُولاً او فروعاً).

تفسير: يعنې د ده په اخبارونو او قصصو کې پوره صداقت، او په بيان کې يې پوره تأثير، په احکامو کې يې پوره اعتدال شته، هغه حقائق چې په پخوانيو کتابونو او نورو آسماني اديانو کې محدود او نا تمام وو؛ د هغوی تکميل او تعميم هم

دې قيم دين سره وکړ شو، هغه احکام چې کتاب الله او د رسول الله سنتو د «حل» او «حرمت» او نورو احکامو په نسبت تنصيصا يا تعليلا صادر کړی دی، د هغوی اظهار او ايضاح خو همېشه کيږي، ليکن د زيادت يا قلت د ترميم ګنجائش په کې له سره نشته.

وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي

او تمام (پوره) مې کړ پر تاسې (ای مؤمنانو !) نعمت خپل (د دين په اکمال).

تفسير: له ګردو څخه لوی احسان خو همدا دی؛ چې اسلام غوندې يو مکمل او ابدي دين او د خاتم الأنبياء صلى الله عليه وسلم په شان يو لوی (نبي) يې تاسې ته مرحمت فرمايلی دی.

وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا

او غوره کړ ما تاسې ته اسلام له جهت د دين (د هر پاکيزه په ټولو اديانو کې).

تنبيه: دغه د ﴿ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ﴾ الآيه ـ آيت نازلول هم د لويو نعمتونو له جملې څخه يو نعمت دی؛ نو ځکه ځينو يهودانو د عمر فاروق رضي الله عنه په حضور کې عرض وکړ: «يا أمير المؤمنين ! که دا آيت پر مونږ نازل شوی وو؛ نو مونږ به يې «يوم النزول» د خپل ځان لپاره اختر ګرځولی وی»، عمر فاروق رضي الله تعالى عنه وفرمايل: «په هغې ورځې کې چې دا آيت نازل شو؛ پر مونږ مسلمانانو دوه اخترونه سره جمع شوي وو»، دا آيت د هجرت په (٩) کال د «حجة الوداع» په موقع د عرفې او جمعې په ورځې د مازيګر په وخت په داسې حالت کې نازل شو، چې د «عرفات» په ميدان کې د نبي کريم «صلى الله عليه وعلى آله وصحبه أفضل الصلاة والتسليم» د اوښې په چپ چاپير کې له (٤٠٠٠٠) تنو څخه زيات اتقياء او ابرار «رضي الله تعالى عنهم أجمعين» سره راټول شوي وو، وروسته له دې نه رسول الله مبارک فقط (٩١) يا (٨١) نورې ورځې په دنيا کې تشريف درلود (لرلو).

فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣﴾

نو هر څوک چې اړ شو (خوراک د حرام شي ته) په سخته لوږه کې، حال دا چې نه وي مائل ګناه ته (په خوراک زيات له کفافه يا د لذت لپاره)؛ پس بېشکه الله ښه مغفرت کوونکی دی (د خطياتو) ډېر رحم کوونکی (چې نه يې نيسي په دغه خوراک).

تفسير: يعنې د حلالو او حرامو قانون خو مکمل شوی دی، اوس په هغه کې هيڅ ډول تغيير او تبديل نشي کېدی، هو ! مضطر چې د لوږې او تندې له شدته بې تابه او ناچاره شوی وي، که حرام شی وخوري، يا يې وخښي، او خپل ځان له هلاکت څخه پرې وژغوري (وساتي)، په دې شرط چې د ضرورت له مقداره متجاوز نشي، او لذت ترې مقصود نه وي ﴿غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ﴾؛ نو حق تعالى به دا د حرامو تناول په خپل فضل او مهربانی سره ورمعاف کړي، ګواکې هغه شی خو همغسې حرام پاتې دی، مګر هغه سړی چې د دې حرامو خوړونکی او څښونکی وي؛ د الله تعالى په نزد مجرم نه ګڼل کيږي، دا هم د نعمت د اتمام يوه نوعه ده.

يَسْأَلُونَكَ مَاذَا أُحِلَّ لَهُمْ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ

پوښتنه کوي دوی له تانه (ای محمده !) چې کوم شی حلال کړی شوی دی دوی ته؟ ووايه: حلال کړی شوي دي تاسې ته طيبات (پاک شيان).

تفسير: په لومړني آيت کې د حرامو شيانو بيان وشو، نو په طبيعي ډول سره داسې يو سوال پيدا کيږي، چې حلال شيان کوم کوم دي؟ نو ځواب يې ورکړ شو، چې د حلالو دائره خو ډېره وسيعه ده، هغه شيان پرېږدئ چې په هغو کې ديني يا بدني نقصانونه دي، نور د دنيا ګرد پاکيزه او ستره شيان حلال دي.

وَمَا عَلَّمْتُمْ مِّنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللَّهُ فَكُلُوا مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ

او (حلال کړی شوی دی تاسو ته ښکار د) هغه چې ښوونه کړي وي تاسې له (ټولو اقسامو) ښکار کوونکو (حيواناتو يا مرغانو) څخه چې ښوونه کوونکي اوسئ تاسې (په ښکار ځغلولو د دوی) چې ښوونه وکړئ تاسې ورته له هغه نه چې ښوولي دي تاسې ته الله، پس خورئ تاسې له هغه ښکاره چې نيولی يې وي تاسې ته (له انعامو او طيورو نه) او يادوئ تاسې نوم د الله په هغه (ښکاري حيوان کله چې ښکار ته يې لېږئ !) (يا) او يادوئ تاسې نوم د الله په (حلالولو د) هغه (ښکار کې که ژوندی مو مينده کړ).

تفسير: د ښکاري سپي او باز او نورو ښکار کوونکو ساکښانو (ذي روحو) ښکار په دې شرطونو سره حلال دی:

۱ - دښکار کوونکو ذي روحو ښه عادت کول، چې تعليم يې موندلی وي.

۲ - پر ښکار باندې خوشې کړ شي.

۳ - په همغه طريقه سره تعليم ورکړی شوی وي؛ چې په شريعت کې د اعتبار وړ وي، يعنې سپي او نورو ته داسې تعليم ورکړی شوی وي؛ چې ښکار ونيسي، او همغسې يې خپل خاوند ته وروړي، او ويې نه خوري، او باز ته داسې تعليم ورکړی شوی وي؛ چې د بلنې په وخت کې خپل خاوند او بلونکي ته ژر بېرته ورشي.

که سپی ښکار په خپله وخوري، يا باز چې په بلنه سره بېرته رانشي، نو داسې فهميږي کله چې دوی د خپل خاوند په بلنه بېرته نه راځي، او د ده په خوله نه کيږي؛ نو هغه ښکار هم د خپل خاوند لپاره نه، بلکه خپلو ځانونو ته يې کړی دی.

۴ - د خوشې کولو په وخت کې د الله تعالى نوم ياد کړ شي ! يعنې بسم الله وايي ! او ورخوشې يې کړي، د دې څلورو واړو شرطونو تصريح خو په قرآني نص کې شوې ده.

که له دې شرطونو ځنې يو شرط هم مفقود شي، نو هغه ښکار چې ښکاري ساکښ (ذي روح) وژلی وي؛ حرام دی، هو ! که مړ شوی نه وي، او ذبح کړ شي، نو د ﴿إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ﴾ په قاعده سره جلا کيږي.

وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ۝

او وويرېږئ تاسې له الله !، بېشکه چې الله ډېر چابک دی حساب (د ده، چې ډېر ژر د ګردو مخلوقاتو حساب خلاصوي).

تفسير: يعنې په هر حالت کې له الله تعالى څخه وويرېږئ ! چې چېرې د «طيبات» په استعمال او د ښکار او د نورو شيانو د منتفع کېدلو په وخت کې له شرعي حدودو څخه متجاوز نشئ !.

اَلْيَوْمَ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ؕ وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ ۖ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ۫ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ مُحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ وَلَا مُتَّخِذِيْٓ اَخْدَانٍ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهٗ ۖ وَهُوَ فِى الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝٥

نن ورځ حلال کړی شوي دي تاسې ته ټول طیبات (پاکیزه شیان) او (هر قسم) طعام د هغو کسانو چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب حلال دی تاسې ته، او (هر قسم) طعام ستاسې حلال دی دوی ته، او (حلالې دي تاسې ته بې مېړه ـ بې خاونده) پاک لمنې اصیلې ښځې له مؤمنانو ښځو څخه او پاک لمنې (بې مېړه ـ بې خاونده) اصیلې ښځې له هغو کسانو چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب له تاسې پخوا، کله چې ورکړی دغو (ښځو) ته مهرونه د دوی (ای مېړونو د نکاح د قید راوړلو لپاره)، حال دا چې نکاح کوونکي یئ تاسې نه زنا کوونکي (ښکاره) او نه نیوونکي د یارانو (په پټه سره)، او هر څوک چې کافر (منکر) شو په ایمان (او مؤمَن به شیانو) پس په تحقیق ضایع (باطل) شو عمل د ده، او دی به آخرت کې له زیانکارانو څنې وي.

تفسیر: دلته له «طعام» څنې مراد «ذبیحه» ده، یعنې که کوم یهودي یا نصراني (په دې شرط چې وروسته د اسلام له ارتداده یهودي یا نصراني نه وي پاتې) که د حلال ساکښ (ذي روح) د حلالولو په وخت کې د غیر الله نوم وا نه خلي؛ نو د هغه خوراک مسلمان ته حلال دی، د مرتد احکام بېل دي.

د کتابیانو له یوه مخصوص حکم سره یې بل مخصوص حکم هم بیان کړ، یعنې له کتابي ښځې سره نکاح ترڼ په شریعت کې جایز، او له مشرکې ښځې سره ناروا دي، لکه چې د دویم جزء د البقره سورت په (۲۲۱) آیت (۲۷) رکوع کې مو ﴿وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ﴾ ولوست.

مګر دا خبره په یاد ولرئ چې ځمونږ په زمانه کې «نصاری» عموما په نامه «نصاری» پاتې دي، په دې نصرانیانو کې زیاتره داسې کسان دي، چې نه پر کوم آسماني کتاب قائلان دي، نه الله جل جلاله مني، نه رسول، نه مذهب لري، نو ځکه د اهل کتابو اطلاق پر دوی نه شي کېدی، لهذا د دوی په مذبوحو او ښځو باندې هغه احکام نه مرتب کیږي؛ چې د حقیقي کتابیانو په ذبائحو او ښځو مرتب دي.

دا خبره دې هم په نظر کې ونیول شي ! چې د یوه شي د حلالېدو دا معنی ده، چې پکې «في حد ذاته» د تحریم کومه وجه نه وي، لیکن که خارجي اثرات او حالات داسې وي، چې له هغه حلال شي څخه په ګټه اخیستلو کې د ډېرو محرماتو ارتکاب واقع کیږي، بلکه په کفر کې د مبتلا کېدو احتمال هم وي، نو له هسې حلال شي څنې د ګټې اخیستلو اجازه نه ورکوله کیږي.

په موجوده زمانه کې له یهودو او نصاراوو سره خوړل او څښل، او بې ضرروته اختلاط او ګډون کول او د دوی د ښځو په جال کې ځان بندول، هسې خطرناک او ویروونکي نتایج لري، چې هغه د هیچا له نظره پټ نه دي، نو د داسې بدې او بې دینې له اسبابو، او ذرائعو څخه هرومرو (خامخا) اجتناب په کار دی !.

له کتابیانو ښځو سره چې د نکاح ترڼو اجازه شوې ده، د هغه فائده ښایي دا وي چې د مؤمن حقانیت او اسلامي اخلاق د ښځې په زړه کې ځای ونیسي، داسې نه چې مؤمن پر هغو کتابیانو هسې مین او مفتون شي، چې بالعکس خپله ایماني متاع له لاسه وباسي، او په سپېره ډاګه میدان کې کینې، او د ﴿خَيْرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةَ﴾ مصداق شي، کله چې له کافرې

ښځې سره د دې فتنې احتمال قوي کېدی شي، نو ځکه د ﴿وَمَنْ يَكْفُرْ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ﴾ تحديد خورا (ډېر) مناسب او پر خپل ځای کې دی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ۚ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) کله چې پاڅېږئ تاسې لمانځه ته (او بې اوداسه یئ) نو ووینځئ تاسې مخونه خپل او لاسونه خپل تر څنګلو پورې (سره له څنګلو) او مسح وکړئ تاسې په سرونو خپلو او (ووینځئ تاسې) پښې خپلې تر پرکیو پورې (سره له پرکیو)،

تفسیر: ﴿إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ﴾ کله چې پاڅېږئ تاسې لمانځه ته یعنې که له خوبه پاڅېږئ یا دنیوي مشاغلو څنې لاس باسئ او لمانځه ته ولاړ شئ، نو لومړی اودس وکړئ ! لیکن اودس کول هلته ضرور دي چې سړی اودس ونه لري، د دې آیت په آخر کې د دې احکامونو هغه غرض او غایې څخه چې په ﴿وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ﴾ کې فرمایلی شوی دی؛ معلومیږي چې د لاسونو، خولې، او نورو اعضاوو د وینځلو وجوب د دې لپاره دی چې حق تعالی تاسې پاک کړي، او په خپل دربار کې تاسې ته ځای درکړي، نو که دا پاکي لا له پخوا څخه حاصله وي، او د اوداسه کوم ماتوونکی شی په مینځ کې پېښ شوی نه وي، نو د پاکو اندامونو د بیا پاکولو هیڅ ضرورت نشته، بلکه د هغه په ضروري کولو سره په «امت» باندې حرج پېښیږي، چې د هغه نفي په ﴿مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ﴾ کې کړی شوې ده، هو ! که زیات نظافت، نورانیت، او نشاط حاصلولو لپاره نوی اودس وکړی شي، نو مستحب دی.

﴿وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ﴾ «او مسح وکړئ تاسې په سرونو خپلو» یعنې لوند لاس پر سر باندې راکاږئ !.

﴿وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ﴾ «او ووینځئ تاسې پښې خپلې تر پرکیو پورې» د (أرجلکم) معطوف علیه مغسولات دي، یعنې همغسې چې د مخ او د لاسونو د وینځلو حکم دی؛ پښې دې هم تر پرکیو پورې ووینځلی شي، او د سر غوندې مسح ورته کافي نه ده، لکه چې ځمونږ «أهل السنت والجماعت» پرې اجماع کړېده، او له ډېرو احادیثو څخه هم دا ثابته شوې ده، چې که په پښو موزې نه وي، نو وینځل یې فرض دي، (مګر پر بوټونو او موزو سم له هغو شرائطو چې په فقهي کتابونو کې مذکور دي؛ مقیم لره یوه شپه او ورځ او مسافر لره تر دریو شپو او ورځو پورې مسح کول هم روا دي.

وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا ۚ

او که وئ تاسې جنبان (یعنې په جنابت کې وئ) نو ښه ځان پاک کړئ !

تفسیر: یعنې له جنابت څنې د پاکېدلو لپاره یواځې د همدې څلورو واړو اعضاوو وینځل او مسح کول کافي نه دي، بلکه د بدن ټولې سطحې ته تر هغو ځایونو پورې چې د اوبو رسونه ورته بې له ضرره ممکن وي؛ د اوبو رسونه ضروري ده.

وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ ۚ مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ

او که وئ تاسې مریضان (رنځوران او اوبه درته مضرې وې) یا په سفر (کې وئ) یا راغی یو له تاسې له ځایه د بولو څخه (یعنې بې اودسه شوئ) یا جماع وکړئ تاسې له ښځو سره، نو ونه مومئ

تاسې اوبه؛ نو قصد وکړئ تاسې د خاورې پاکې نو (ووهئ لاسونه دوه ځلې پر ځمکه او) ومنبئ تاسې (دا لاسونه) په مخونو خپلو او لاسونو خپلو له هغې (خاورې) څخه، اراده نه لري الله (د تطهير په دې تکليف کې پر تاسې دا) چې مقرر کړي پر تاسې څه حرج (تنګوالی يا سختي).

تفسير: د اوداسه او غسل په تيمم کې هيڅ فرق نشته، ځکه د تيمم له مشروعيت څخه چې کوم غرض دی؛ هغه په هر صورت کې په يو شان حاصليږي.

تنبيه: د ﴿أَوْ لَٰمَسْتُمُ النِّسَاءَ﴾ ترجمه چې په جماع سره شوې ده، د ابن عباس رضي الله تعالى عنه او ابو موسى اشعري رضي الله تعالى عنه له تفسير سره موافقه ده، چې ابن مسعود رضي الله تعالى عنه هم هغه سکوتا منلې ده (كما في البخاري).

وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٦﴾

او ليکن اراده لري (الله د دې) چې پاک کړي تاسې (له صوري او معنوي پليتی نه) او د دې لپاره چې پوره کړي (الله) نعمت (احسان) خپل پر تاسې (په اسلام او د شرائعو په بيان) لپاره د دې چې تاسې شکر وکذار شئ !.

تفسير: دا ښوونه هم في حد ذاته يو نعمت دی، او په ظاهري بدن باندې له اوبو تېرولو يا په خاورو سره له مسح کولو څخه بنده ته باطني پاکي ورکول بل نعمت دی، بنده لا د لومړنيو نعمتونو شکر نه وو ادا کړئ، او د هغو د شکر د اداء کولو په قصد وو، چې په دې نويو نعمتونو فائض شو، نو ځکه ارشاد وشو ﴿لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ يعنې د پخوانيو نعمتونو له يادولو څخه پخوا د دې جديدو نعمتونو شکر ښايي اداء کړئ ! چې د اوداسه د احکامو په ضمن کې پر تاسې شوي دي.

وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمِيثَاقَهُ الَّذِي وَاثَقَكُم بِهِ إِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٧﴾

او ياد کړئ تاسې نعمت (احسان، رحمت) د الله پر تاسې (چې اسلام دی) او (ياد کړئ) عهد محکم د الله هغه (عهد) چې محکموالی کړی دی (الله) له تاسې سره په هغه سره کله چې وويل تاسې: واړېده مونږ (وينا ستا) او ومو منه (فرمان ستا)، او وويرېږئ له الله (په هېرولو د نعمت او ماتولو د بيعت کې) بېشکه چې الله ښه عالم دی په خبرو د سينو (او په حالاتو د زړونو هم).

تفسير: غالبا دا همغه عهد دی چې په «٣» جزء د «البقره» سورت په خاتمه په (٢٨٥) آيت (٤٠) رکوع کې يې د مؤمنانو له ژبې څخه نقل فرمايلی وو: ﴿وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ﴾ کله چې اصحاب کرام رضي الله تعالى عنهم د محمد صلى الله عليه وسلم پر مبارک لاس بيعت کولو، په دې وخت کې يې هم داسې اقرار کولو چې: «مونږ له خپل توان سره سم ستاسې هره خبره اورو، او منو يې، برابره ده چې هغه ځمونږ له طبيعت سره موافقه وي او که مخالفه»، دا خو عمومي عهد وو، وروسته له دې اسلام د ځينو ارکانو له حاله سره مناسب د خپلو نورو اهمو شيانو په نسبت خصوصي عهد هم له دوی ځنې اخيستل کېده.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ ۖ

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) اوسئ تاسې محکم ولاړ (په حق باندې) لپاره د الله (اوسئ تاسې !) شاهدان په قسط (عدل او انصاف) سره.

تفسير: ﴿قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ﴾ کې د حقوق الله او په ﴿شُهَدَآءَ بِٱلْقِسْطِ﴾ کې د حقوق العباد په لوري اشاره ده، همداسې يو آيت په (۵) جزء د «النساء» سورت په (۱۳۵) آيت (۲۰) رکوع کې تېر شوی دی، چې د دې دواړو په مينځ کې فقط دومره فرق شته، چې هلته «بالقسط» يې له «الله» څخه مقدم کړی دی، او ښايي چې وجه يې دا وي چې هلته د «حقوق العباد» ذکر له اوله جريان درلود (لرلو)، او دلته له پخوا راهيسې د «حقوق الله» تأکيد جريان لري، نو په دې ملاحظه هلته د «بالقسط» او دلته د «الله» تقديم مناسب شو، برسېره پر دې دلته په لحاق کې له مبغوض دښمن سره د معاملې کولو ذکر دی، چې له هغه سره د «قسط» تذکر ضرور دی، او هلته د سورت «النساء» د آيت په لحاق کې د محبوبو شيانو ذکر دی، نو ځکه هلته له ګردو ځنې محبوب د پاک الله د ذکر تذکر شوی دی.

وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ قَوْمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعْدِلُوا۟ ۚ

او باعث دې نکړي تاسې دښمني د يوه قوم په دې باندې چې عدل انصاف به ونه کړئ تاسې.

تفسير: د «عدل» معنی دا ده چې له بل چا سره بې له افراطه او تفريطه همغسې معامله وکړئ چې هغه واقعي د هغې مستحق وي، د عدل او د انصاف تله ښايي داسې سمه او برابره وي چې نه ډېره زياته دوستي، او نه ډېره سخته دښمني وکولی شي، چې د هغې يوه پله درنه کړي.

ٱعْدِلُوا۟ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۖ

عدل (انصاف) وکړئ تاسې !، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوی (پرهېزګاری) ته.

تفسير: «تقوی» د هغه معنوي کيفيت نوم دی، چې د هغو شيانو له اجتناب او ځان ژغورنې (ساتنې) ځنې حاصليږي، چې شرعاً مهلک يا په کومه درجه سره مضر وي، او يو خاص نوراني کيفيت دی چې د انسان په زړه کې راسخيږي، د «تقوی» د تحصيل نږدې او لرې اسباب ډېر دي، ګرد حسنه اعمال او د خير خصال «د تقوی» له اسبابو او معداتو ځنې شمېرلی شي، ليکن معلوميږي چې «عدل» او «قسط» يعنې له دوسته او دښمنه سره يو شان معامله کول، او د حق په معامله کې د محبت او عداوت د جذباتو تر تأثير لاندې نه راتلل، د «تقوی» د حصول د خورا مؤثرو او د ډېرو قريبو اسبابو څخه دي، نو يې ځکه ﴿أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ﴾ وفرمايل، يعنې دا عدل چې حکم يې ورکړ شو «تقوی» ته ډېر نږدې دی، چې د هغه له ممارست او کولو څخه وروسته د «تقوی» کيفيت ډېر ژر حاصليږي.

وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾

او وويرېږئ تاسې له الله (نو ظلم مه کوئ !) بېشکه چې الله ښه خبردار دی په هغو اعمالو چې کوئ يې تاسې.

تفسير: يعنې داسې عدل او انصاف وکړئ ! چې مخه يې هيڅ ډول دوستي يا دښمني نشي نيولی، او د هغه له غوره کولو ځنې انسان په آسانۍ سره متقي کېدی شي، د «تقوی» د حصول يواځينی لار د الله تعالی وېره ده، او د هغه له انتقام څخه خوف دی، او دا خوف د ﴿إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾ په مضمون کې له څو څو ځلې تفکر او تدبر کولو ځنې پيدا کيږي.

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿٩﴾

وعده کړېده الله له هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه د دې چې مقرر دی) دوی ته مغفرت او اجر ډېر لوی (په جنت کې).

تفسير: يعني نه يواځې دا چې د هغوی هغه قصور به وربخښو چې د بشريت په اقتضاء له هغوی څخه صادريږي، بلکه عظيم الشأن اجر او ثواب به هم دوی ته عطا فرمايو.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿١٠﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا
اذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَنْ يَبْسُطُوا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ
عَنْكُمْ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾

او هغه کسان چې کافران شوي دي او نسبت د دروغو يې کړی دی آياتو څمونږ ته؛ همدغه کسان دي صاحبان (ملګري د اور) د دوزخ. ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعني ای مؤمنانو !) ياد کړئ تاسې احسان د الله (چې) پر تاسې (دی) کله چې قصد وکړ يوه قوم د دې چې راوغځوي دوی تاسې ته لاسونه خپل (او تاسې مړه کړي) نو منع يې کړل لاسونه د دوی له تاسې څخه، او وويرېږئ تاسې (په هېرولو د نعمتونو کې) له الله څخه، او خاص په الله پس خامخا توکل دې وکړي مؤمنان (چې الله کافي دی په رسولو د خير او لرې کولو د شر کې).

وَلَقَدْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ۖ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًا ۖ وَقَالَ اللَّهُ إِنِّي
مَعَكُمْ ۖ لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلَاةَ وَآتَيْتُمُ الزَّكَاةَ وَآمَنْتُمْ بِرُسُلِي وَعَزَّرْتُمُوهُمْ
وَأَقْرَضْتُمُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا لَأُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَلَأُدْخِلَنَّكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ
تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۚ فَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ ﴿١٢﴾

او خامخا په تحقيق اخيستې ده الله وعده محکمه له بني اسرائيلو، او ولېږل (مقرر کړل) مونږ له دوی نه دوولس (تنه) مشران (ضامنان د قوم د دوی په وفا د وعدې سره)، او وفرمايل الله (بني اسرائيلو ته) بېشکه زه له تاسې سره يم (په معاونت او نصرت سره) (او ويې فرمايل: قسم دی) خامخا که قائم کړئ تاسې (سم اداء کړئ سره له ټولو حقوقو) لمونځ او ورکړئ تاسې زکات (د اموالو خپلو مستحقانو ته)، او ايمان راوړئ تاسې په رسولانو زما، او مدد (او تعظيم) وکړئ تاسې د دوی، او قرض ورکړئ تاسې الله ته قرض نېک (ښه ورکړه بې منته، بې احسانه، بې ضرره د زړه له اخلاصه نو)، خامخا لرې به کړم زه له تاسې څخه ګناهونه ستاسې، او خامخا داخل به کړم زه تاسې هسې جنتونو ته چې بهيږي له لاندې (د ونو او مانيو د) هغو ويالې، نو هر څوک چې کافر شو وروسته له دې (وعدې) له تاسې نه؛ نو په تحقيق ورکه کړې يې ده سمه صافه لاره (د حق).

تفسير: ﴿إِنِّي مَعَكُمْ﴾ خطاب همغو د بني اسرائيلو دولسو سردارانو ته دی، يعني تاسې خپل فرض اداء کړئ !، زما حمايت او امداد له تاسې سره دی، يا ګردو بني اسرائيلو ته دی : چې زه له تاسې سره يم، يعني هيڅ وخت ما له خپل ځانه لرې مه ګڼئ ! هر هغه معامله چې په هر ځای او په هر وخت کې يې په پټه يا په ښکاره تاسې وکړئ زه يې ګورم، او اورم يې، نو ځکه هر شی چې کوئ، ښايي چې په پوهه او هوښياری سره يې وکړئ !.

﴿وَآمَنْتُمْ بِرُسُلِي وَعَزَّرْتُمُوهُمْ﴾ «او ايمان راوړئ، يقين وکړئ تاسې په رسولانو ځما، او مدد او تعظيم وکړئ تاسې د دوی»، يعني هر هغه رسول چې له موسی عليه السلام څخه وروسته راځي، د هغوی د ټولو تصديق او د زړه له کومې د دوی تعظيم وکړئ ! او د حق د دښمنانو په مقابل کې له هغوی سره په خپلو ځانونو او مالونو دواړو سره معاونت او مرستې (مدد) وکړئ.

﴿وَأَقْرَضْتُمُ اللَّهَ﴾ يعني ورکړه کوئ ! په لاره د الله لپاره د ترڅ د دين، له قرض ورکولو څخه مراد دا دی: چې د دين او د الله د رسولانو په حمايت او ساتنه کې خپل مالونه صرف کړئ ! همغسې چې قرض ورکوونکي خپلې روپۍ په دې مقصد بل ته پور (قرض) ورکوي، چې د ده روپۍ به بېرته ور رسېږي، او قرض اخيستونکی د هغه ادا کول په خپله ذمه لازمه ګرځوي، همدا شان د همغه الله تعالی له ورکړی شوي مال ځنې هر شی چې دلته د هغه په لاره کې صرف کړ شي، هغه به له سره نه لږ او نه ورک کيږي، حق تعالی د کومې مجبورۍ له امله (وجهې) نه بلکه محض په خپل فضل او رحمت سره يې دا په خپله ذمه لازمه کړېده، چې هغه شی به سره له ډېرې ګټې در رسوي.

﴿قَرْضًا حَسَنًا﴾ «پور (قرض) نېک: ښه ورکړه، بې منته، بې احسانه، او بې ضرره د زړه له اخلاصه»، له نېک ځنې مراد دا دی چې په اخلاص يې ورکوئ ! او له محبوبو او له مرغوبو شيانو او د حلالو، پاکو، صافو، او ښو مالونو څخه يې ورکړئ ! (او ځواب د قسم دا دی):

﴿لَأُكَفِّرَنَّ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ﴾ «نو خامخا به لرې کړم له تاسې څخه ګناهونه ستاسې» يعنې کله چې نيکۍ ډېرې شي؛ بدۍ بدلوي او محوه کوي يې، کله چې انسان د الله تعالی د عهد په پوره کولو کې زيار باسي (محنت کوي)، او کوښښ کوي نو حق تعالی ترې نورې کمزورۍ او نيمګړتياوې لرې کوي، او د خپلې خوښې او قرب په مقام کې ورته ځای ورکوي.

﴿فَمَن كَفَرَ﴾ الآيه ـ يعنې له هسې صاف او پاخه عهد او پيمان څخه وروسته هم که څوک د الله تعالی په عهد وفا ونه کړي، او غدر او خيانت ته ملا وترې، نو وپوهېږئ چې ده د کاميابۍ او د نجات سمه لار ورکه کړې ده.

فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً ۖ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ ۙ وَنَسُوا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا بِهِ ۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَائِنَةٍ مِّنْهُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٣﴾

نو په سبب د ماتولو د دوی د کلکې وعدې خپلې لعنت وکړ مونږ پر دوی او ګرځولي دي مونږ زړونه د دوی سخت (چې هيڅ پند نه آخلي) چې اړوي (لرې کوي) دوی کلمې (د تورات مخصوصا محمدي نعت) له ځايونو خپلو (او په خپلې ناپاکې مدعا يې اړوي)، او هېره کړې ده دوی (غټه) برخه اخيستل له هغه شي چې پند ورکړی شوی وو دوی ته په هغه سره (په تورات کې چې هغه متابعت د محمد وو)، او همېشه به يې ته (ای محمده !) چې خبر ېږې په کوم خيانت له دې (يهودانو نه) مګر لږ (کسان) له دوی نه، نو عفوه وکړه (ای محمده !) دوی ته، او مخ وګرځوه (له دوی نه)، بېشکه چې الله خوښوي احسان کوونکي.

تفسير: د «لعن» معنی (طرد، ابعاد، شړل او لرې کول) ده، يعنې د عهد ماتولو او د غداری له سببه مونږ دوی له خپل رحمت څخه لرې وغورځول (يا مسخه مو کړل يا جزيه مو پرې کېښوده)، او د دوی زړونه مو سخت کړل، په ﴿فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَاقَهُمْ﴾ کې ظاهر وفرمايل چې د دوی د ملعونيت او زړه سخت کېدلو سبب هغه عهد ماتول او بې وفايي ده، چې د دوی خپل فعل دی، اما پر اسبابو باندې د مسبباتو مرتبول څرنګه چې د الله تعالی کار وو، نو په دې لحاظ ﴿وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً﴾ نسبت د الله جل جلاله په لوري وکړ شو.

﴿يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ﴾ «اړوي دوی کلام د تورات، مخصوصا محمدي نعت له ځايونو خپلو څخه په خپلې ناپاکې مدعا» يعنې د الله تعالی په کلام کې تحريف کوي، کله د هغه په الفاظو کې، کله د هغه په معانيو کې، کله په تلاوت کې، د تحريف دغه ګرد اقسام په قرآنکريم او د احاديثو په کتابونو کې ذکر شوي دي، چې پر هغو باندې لږ څه اعتراف د نن ورځې اروپايي نصاراوو هم کړی دی.

﴿وَنَسُوا حَظًّا﴾ يعني لازم خو دا وو چې اهل کتاب د دغو آسماني کتابونو له قيمتدارو پندونو ځنې فائدې اخيستلې واى، مثلا د نبي آخر الزمان صلى الله عليه وسلم د راتګ او د نورو ديني مهماتو په نسبت د هغو په کتابونو کې ارشادات موجود وو، مګر دوى په خپلو شرارتونو او غفلتونو اخته او دا ګرد شيان يې له يادە وويستل، بلکه د پندونو هغه ضروري برخې يې هم ورکې کړې، او اوس هم هغه پندونه او مفيدې خبرې چې د خاتم النبيين صلى الله عليه وسلم له خولې هغوى ته کيږي؛ د هغو هيڅ يو اثر نه قبلوي.

﴿وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَائِنَةٍ مِّنْهُمْ﴾ يعني د دوى د دغابازى او خيانت کارى سلسله تر نن و رځې پورې جاري ده، او وروسته له دې نه به هم جاري وي، نو ځکه تل تاسې د دوى پر يوې نه يوې دغابازى، مکر، فرېب، او خيانت باندې خبر ېږئ، (په خائنة کې «ة» لپاره د مبالغې ده لکه علامة او نسابة کې).

﴿إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ﴾ مګر لږ کسان له دوى نه چې هغوي خيانت نه دى کړى او نه يې کوي، لکه عبد الله بن سلام او نور چې په اسلام کې داخل شوي دي، رضي الله تعالى عنهم.

﴿فَاعْفُ عَنْهُمْ﴾ الآية ـ قتاده او نورو «رحمهم الله» ويلي دي: چې دا آيت په ﴿قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ﴾ سره منسوخ شوى دى، مګر دېته هيڅ حاجت نشته، ځکه د قتال له حکمه دا نه لازميږي؛ چې په هيڅ وخت او هيڅ موقع کې دې هم د داسې قوم په مقابله کې له عفوې او اغماض او تأليف القلوب او تېرېدلو ځنې کار وانخيستل شي، (بيضاوي وايي چې: عفو او صفح مشروط دي په دې شرط سره چې دوى توبه وباسي او ايمان راوړي، يا صلح وکړي او جزيه ومني، نو په دې تقدير سره نسخ نشته، او که عفو او صفح دواړه مطلق وي، نو دا حکم به د سيف په آيت سره منسوخ وي).

وَمِنَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ أَخَذْنَا مِيثَاقَهُمْ فَنَسُوا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا بِهِ ۖ فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ۚ وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللَّهُ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ ﴿١٤﴾

او ځينو له هغو کسانو ځخه چې وايي دوي: بېشکه مونږ نصرانيان يو؛ اخيستى وو مونږ محکم عهد د دوى، نو هېره کړه دوى (غټه) برخه آخيستل له هغه شي چې پند ورکړى شوى وو دوى ته په هغه سره، نو واچاوه مونږ په منځ د دوى کې عداوت (دښمني) او بغض (کينه) تر ورځې د قيامته پورې، او ژر به خبر ورکړي دوى ته الله په هغو کارونو چې وو دوى چې کول به يې.

تفسير: يعني (و أخذنا من النصارى ميثاقهم كما أخذنا ممن قبلهم) د نصارى د کلمې مأخذ يا «نصر» دى، چې معنى يې مدد کول دي، يا د «ناصره» په لوري منسوب دى چې په شام کې د هغې قريې نوم دى، چې هلته مسيح عليه السلام هستوګنه درلوده (لرله)، نو ځکه ورته ناصري مسيح عليه السلام هم وايي، هغه کسان چې خپل ځانونه يې «نصارى» بلل، ګواکې دوى د دې خبرې مدعيان وو، «چې مونږ د الله تعالى د حق دين او د انبياوو عليهم السلام رښتيني حاميان او ناصران يو، او د ناصري مسيح له متابعانو ځنې يو»، د ژبې د دعوى او ظاهري افتخار سره سره هغه لاره چې دوى د دين په چارو کې غوره کړې وه په آينده کې به ذکر شي.

﴿أَخَذْنَا مِيثَاقَهُمْ﴾ ـ «اخيستى وو مونږ محکم عهد له نصرانيانو نه هم په انجيل کې چې هغه د محمد صلى الله عليه وسلم متابعت وو» يعني د يهودانو په شان له دوى ځنې هم کلک عهد اخيستلى شوى، ليکن دوى هم په عهد ماتولو او بې وفايۍ کې له خپلو پخوانيو ځخه هيڅ کم نه وو، دوى هم له هغو ښو پندونو ځنې هيڅ يوه فائده وانخيسته، چې پر هغو باندې ابدي فلاح او نجات مرتب وو، بلکه په «انجيل ـ بايبل» کې يې د نصائحو هغه برخه بيخي پرېښوده،

چې في الحقيقت د مذهب مغز وه (او هم دمحمد صلى الله عليه وآله وصحبه وسلم د متابعت په نسبت يې د هغه احكام ونه منل).

﴿فَأَغْرَيْنَا﴾ الآية ـ «نو واچاوه مونږ په منځ د دوى كې عداوت، دښمني، بغض او كينه» يعنې د نصرانيانو په منځ كې يا د يهودانو او نصاراوو په منځ كې به تل تر تله جګړې او عداوتونه قائميږي، او د آسماني تعليماتو له ضايع كېدلو او هېرولو ځنې كومه نتيجه چې پېښېدونكې وه؛ هغه پېښه شوه.

﴿وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللهُ﴾ الآية ـ يعنې په آخرت كې به په ښه ډول سره او په دنيا كې به هم د ځينو واقعاتو په وسيله هغوى د دوى د بدو كارونو نتيجه ور معلومه شي.

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ كَثِيرٗا مِّمَّا كُنتُمۡ تُخۡفُونَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖۚ

اى اهل د كتابو ! په تحقيق درغلى دى تاسې ته رسول ځمونږ (محمد) چې بيانوي (ښكاروي) تاسې ته ډېر له هغو شيانو چې وئ تاسې چې پټول به مو له كتابه (تورات او انجيل نه لكه د رجم آيت او محمدي نعت) او عفو كوي (تېريږي) له ډېرو شيانو،

تفسير: دا ګردو يهودانو او نصرانيانو ته خطاب دى، چې هغه نبي آخر الزمان صلى الله عليه وسلم تشريف راوړ، چې د ده د راتګ بشارت ستاسې په كتابونو كې سره له دومره تحريفاتو لا هم څه نه څه په يوه نه يوه عنوان شته، او پاك الله د دې رسول صلى الله عليه وسلم ته خپل پاك كلام ورليږلى دى، او هغه حقايق يې تكميل كړل چې له مسيح عليه السلام څخه ناتمامه پاتې وو، د «تورات» او «انجيل» هغه خبرې چې تاسې پټولې او تغيير او تبديل مو پكې كولو، له هغو څخه ګردې ضرورې خبرې هم دې رسول آخر الزمان صلى الله عليه وسلم تاسې ته ظاهرې كړې دي، او له هغو خبرو ځنې تېر شوى دى چې اوس هغو ته دومره ضرورت نه دى پاتې، او يا په اظهار كې يې څه مصلحت نه وو.

قَدۡ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٞ وَكِتَٰبٞ مُّبِينٞ ١٥ يَهۡدِي بِهِ ٱللَّهُ مَنِ ٱتَّبَعَ رِضۡوَٰنَهُۥ سُبُلَ ٱلسَّلَٰمِ وَيُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِهِۦ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ١٦

په تحقيق درغلى دى تاسې ته له (طرفه د) الله ځنې نور (رڼا يعنې محمد) او كتاب مبين (روښان بيانوونكى قرآن). چې هدايت كوي په (هر يوه) له دې سره الله هغه چا ته چې تابع وي د رضا د ده لارې د سلامتى ته، او باسي دوى له تيارو (د كفر، شك، جهل) څخه نور (رڼا د ايمان، يقين او علم) ته په اذن (حكم، اراده، توفيق) خپل، او هدايت (ښوونه) كوي دوى ته (په طرف د) لارې سمې صافې (د توحيد).

تفسير: اى محمده ! «صلى الله عليه وسلم» ووايه دوى ته چې: د الله تعالى په ډېرې زورورې رڼا سره ګرد جهان رون شوى دى، كه د ابدي نجات پر سمه لاره باندې تلل غواړئ نو په دې رڼا كې د الله تعالى د رضا او خوښې حاصلولو پسې شئ ! چې د سلامتى ګردې لارې به سمې او خلاصې ومومئ، او له تيارو ځنې به ووځئ، په دغه رڼا كې به بې له ربړه (مصيبته) او تكليفه تللى شئ، او د هغه پاك الله د رضا او خوښې چې تابع شوي يئ د هغه په لارښوونې او لاس نيونې سره به ﴿صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ﴾ بې تكليفه طى كولى شئ.

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ

خامخا په تحقيق كافران شوي دي هغه كسان چې وايي دوی: بېشكه چې الله همدا مسيح ځوی د مريمې دی.

تفسير: يعنې دوی وايي چې: الله بې له مسيح عليه السلام څخه كوم بل شی نه دی (معاذ الله)، وايي چې په نصرانيانو كې دا د «يعقوبيه وو» د فرقې عقيده ده چې د دوی په نزد د مسيح عليه السلام په قالب كې الله تعالى حُلول كړی دی (معاذ الله).

قُلْ فَمَنْ يَمْلِكُ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا إِنْ أَرَادَ أَنْ يُهْلِكَ الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا

ووايه (ای محمده ! دغو نصرانيانو ته) نو څوك به مالك شي (د منعې) له الله څنې د يوه شي؟ كه اراده وفرمايي (الله) ددې چې هلاك كړي مسيح ځوی د مريمې او مور د ده او هومره خلق چې په ځمكه كې دي ګرد سره ټول (بلكه هيڅوك يې نشي كولى).

تفسير: يعنې فرض كړئ كه قادر او قهار الله جل جلاله داسې اراده وفرمايي چې مسيح عليه السلام او بي بي مريم او ټول وړاندني او وروستني د ځمكې اوسيدونكي سره يو ځای كړي، او په يوه شېبه (يو ساعت) كې ګرد (ټول) سره مړه كړي، نو همدا تاسې وښيئ ! چې څوك به يې د ارادې مخه ونيولى شي؟

يعنې كه له ازله تر ابده پورې ګرد انسانان هم سره فرضا ټول كړل شي، او الله جل جلاله په يوه آن كې د دوی د هلاكولو اراده وفرمايي؛ نو د دوی ګرد (ټول) اجتماعي قوت هم د الله تعالى د ارادې مخه د لږ وخت لپاره هم نشي ځنډولى (ملتوي كولى)، ځكه چې د مخلوقاتو محدود او ورکړ شوی قوت او قدرت د الله تعالى د قدرت په مقابل كې داسې پوره عاجز او لاشی دی؛ چې پر هغه همدا خلق اعتراف كوي، چې د دوی په رد كې دا خطاب كيږي، بلكه په خپله مسيح ابن مريم عليه السلام هم چې هغه خلق يې الله بولي؛ هم په دې باندې معترف دی لكه چې د «مرقس» په «انجيل» كې د مسيح عليه السلام دا مقوله موجوده ده، نو كله چې مسيح عليه السلام چې تاسې يې الله بولئ، او د هغه ماجده والده صديقه بي بي مريمه چې ستاسې په زعم د الله مور ده، كه دا دواړه هم سره له ګردو (ټولو) هغو كسانو چې د ځمكې په سر هستوګنه لري، يو ځای شي؛ د الله تعالى د مشيئت او ارادې په مقابل كې عاجز او ناتوان دي، نو تاسې پخپله فكر او اټكل وكړئ ! چې پخپله د هغه يا د هغه د والدې يا د بل كوم مخلوق په نسبت به د الوهيت دعوی كول څومره ګستاخي او سپين سترګي توب وي؟

وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ

او خاص الله لره دی ملك (سلطنت) د آسمانونو او (سلطنت) د ځمكې او (سلطنت) د هغو شيانو چې په مينځ د دوی كې دي، پيدا كوي (الله) هغه چې اراده يې وفرمايي د (پيدا كولو يې).

تفسير: يعنې هر څه يې چې اراده وي او په هر ډول چې اراده وفرمايي؛ هغه كوي، مثلا مسيح عليه السلام يې بې پلاره او حواء رضي الله تعالى عنها يې بې له موره او آدم عليه السلام يې بې له موره او بې له پلاره پيدا كړی دی.

وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٧﴾

او الله پر هر څيز باندې ښه قادر دی (نو بې له پلاره بې له موره او بې له والدينو يې هم پيدا کوي).

تفسير: د هيڅا زور د الله جل جلاله په مقابل کې نه چليږي.

وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَىٰ نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ ۚ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُم ۖ

او ويل يهودانو او نصرانيانو چې مونږ ځامن د الله يو (په قرب او منزلت کې) او دوستان د ده يو، ووايه (ای محمده ! دې کتابيانو ته): نو ولې په عذابوي (الله) تاسې په سبب د ګناهونو ستاسې؟.

تفسير: ځرنګه چې د حقيقت له مخې د کوم مخلوق «ابن الله» کېدل بالکل محال او بديهي البطلان دي، او د ﴿يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ﴾ (۶ جزء د المائده سورت (۵۴) آيت (۸) رکوع) د مضمون له مخې الله تعالی محبوب ګرځېدل ممکن وو؛ نو ځکه په دې جمله کې اول د «محبوبيت» د دعوی تردید وشو، يعنې هغه قوم چې د ښکاره بغاوتونو او ډېرو شديدو ګناهونو له سببه دلته په ځو قسمو رسواييګانو او عذابونو کې نيولی شوی دی، او په آخرت کې هم عقلا او نقلا د حبس دوام د سزا استحقاق لري، آيا د داسې باغي او عاصي قوم په نسبت د يوې لمحې لپاره هم کوم ذي شعور داسې خيال کولی شي چې: دا به د الله تعالی محبوب او مکرم وي؟ پاک الله له هيڅا سره نسبي علاقه نه لري، د ده مهرباني او محبت يوائې له اطاعت او حسن عمل څخه حاصلېدی شي.

بَلْ أَنتُم بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ۚ

بلکه تاسې (هم) يو بشر (بنيادم) يئ د هغو مخلوقاتو له جملې نه چې الله پيدا کړي دي.

يَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ ۚ

مغفرت کوي (الله) هغه چا ته چې اراده وفرمايي (د مغفرت يې) او عذابوي هغه څوک چې اراده وفرمايي (د عذاب يې).

تفسير: ځکه چې همغه ته دغه خبره ښه معلومه ده چې څوک دمغفرت وړ (لايق) او کوم يوه ته سزا ورکړه شي؟

وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ ﴿١٨﴾

او خاص الله لره دی ملک (سلطنت) د آسمانونو او (سلطنت) د ځمکې او (سلطنت) د هغو شيانو چې په منځ د دوی کې دي، او خاص هم ده ته دي بيا ورتلل (د ټولو، نو وربه کړي هر چا لره جزا د عمل د ده).

تفسير: نو د هر چا د معافولو اراده چې دی په خپل فضل او رحمت او حکمت سره وفرمايي، يا سم له عدل او انصاف سره د چا د سزا ورکولو اراده ولري، په دې کې څوک له ده سره مزاحم کېدی نه شي، نه کوم مجرم ته د دې خبرې توان او قدرت شته، چې د ده له سلطنت او ځمکې او آسمان څخه د باندې ووځي، او نه دا چې په آخرت کې چېرې وتښتي.

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ عَلَىٰ فَتۡرَةٖ مِّنَ ٱلرُّسُلِ أَن تَقُولُواْ مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٖ وَلَا نَذِيرٖۖ فَقَدۡ جَآءَكُم بَشِيرٞ وَنَذِيرٞۗ

ای اهل د کتابو ! په تحقیق درغلی دی تاسې ته رسول ځمونږ (محمد) بیانوي تاسې ته (شرعي أحکام) په (وخت د) انقطاع د رسولانو (او معطل کېدو د وحیې) کې چې بیا چېرې ونه وایئ تاسې (په قیامت کې) چې: نه وو راغلی مونږ ته هیڅ زېرې کوونکی (په نعیم سره) او نه ویروونکی (په جحیم سره) نو په تحقیق راغی تاسې ته زېرې کوونکی او ویروونکی،

تفسیر: ﴿فَقَدۡ جَآءَكُم بَشِيرٞ وَنَذِيرٞ﴾ «نو په تحقیق راغی تاسې ته زېرې ورکوونکی او ویروونکی» له مسیح علیه السلام نه نږدې (٦٠٠) کاله وروسته د انبیاوو د راتګ سلسله منقطع شوې وه، او ګرده دنیا تر «ما شاء الله» پورې د جهل او غفلت هوسونو او اوهامو په تیارو کې لوېدلې وه، د هدایت ډیوه مړه شوې وه، د ظلم، عدوان، او الحاد تکې توریې وربڅې پر ګرد (آفاق) خورې شوې وې، په دې وخت کې د ګرد جهان د اصلاح لپاره پاک الله جل جلاله له ګردو ځنې لوی «هادي»، «بشیر» او «نذیر» راولېږه، چې جاهلانو ته د دارینو د فلاح لارې ور وښیي، او غافلان په خپل تخویف او انذار سره ویښ کړي، او تېټ همتان د بشاراتو په آوروالو سره په شوق راولي، په دې شان په ګردو مخلوقاتو کې د الله تعالی حجت تمام شو، که څوک یې ومني، او که یې ونه مني.

وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٩

او الله پر هر شي ښه قادر دی (چې له هغې جملې نه د نبیانو علیهم السلام د سلسلې د قطع کېدو ځخه وروسته د محمد صلی الله علیه وسلم ارسال دی).

تفسیر: یعنې که تاسې د دې رسول خبره وا نه وریئ؛ نو الله تعالی قدیر دی چې بل یو قوم ستاسې په ځای ودروي، چې د الله تعالی پیغام به په پوره ډول سره ومني، او د الله تعالی له رسول سره پوره ملګرتیا وکړي، د الله تعالی کار په تاسې باندې هیڅ نه دی موقوف.

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ جَعَلَ فِيكُمۡ أَنۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُم مُّلُوكٗا وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمۡ يُؤۡتِ أَحَدٗا مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٠

او (یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چې وویل موسی قوم خپل ته ای قومه (ځما) یاد کړئ تاسې نعمت (احسان) د الله پر تاسې باندې کله چې وګرځول (الله) په تاسې کې (ډېر) انبیاء او وګرځول (الله) په تاسې کې (یا له تاسې نه) پاچایان، او در یې کړ تاسې ته هغه چې نه یې وو ورکړی هیڅ یوه ته له خلقو (د زمانې ستاسې).

تفسیر: ﴿إِذۡ جَعَلَ فِيكُمۡ أَنۢبِيَآءَ﴾ «کله چې وګرځول الله جل جلاله په تاسې کې ډېر انبیاء یعنې ستاسې د أعلی جد ابراهیم علیه السلام له زمانې راهیسې تر نن ورځې پورې ځومره ډېر انبیاء علیهم السلام ستاسې په منځ کې پیدا شوي دي، مثلا اسماعیل، اسحق، یعقوب، یوسف، او پخپله موسی او هارون علیهم الصلوات والتسلیمات، او وروسته له دوی نه هم دا سلسله تر یوې اوږدې زمانې پورې قائمه پاتې وه (چې تاسې ته به دوی ارشادات کول او پرې مشرف او معزز کېدلی به).

﴿وَجَعَلَكُمْ مُّلُوكًا﴾ او وګرځول (الله په) تاسې (کې يا له تاسې نه) پاچايان يعني د (فرعون) له خورا ذلت، سپکتوب، او غلامۍ څخه مو آزادي درکړه، او د فرعونيانو په اموالو او املاکو مو مسلط ورګرځولئ، او له دې نه وړاندې ستاسې له منځه مويوسف عليه السلام ته څرنګه د (مصر) په خزائنو او سلطنت تسلط عطا فرمايلی وو، بيا ورپسې مو هم سليمان عليه السلام او نور انبياء عليهم السلام او پاچايان پيدا کړل، ګواکې د دين او دنيا له دواړو لويو نعمتونو سره مو تاسې ته سرلوړي درکړه، ځکه چې په ديني مناصبو کې خورا لوی منصب نبوت، او په دنيا کې آخري اقبال آزادي او پاچاهي ده، چې دا دواړه شيان الله (جل وعلا شأنه) تاسې ته ای بني اسرائيلو در عطاء او مرحمت فرمايلي دي.

﴿وَآتَاكُم﴾ الآية - «او در يې کړ تاسې ته ای بني اسرائيلو هغه شيان چې ورکړي يې نه وو هيڅ يوه ته له خلقو د زماني ستاسې».

د ﴿أَحَدًا مِّنَ الْعَالَمِينَ﴾ حمل پر عمومو باندې به ځکه صحيح نه وي؛ چې ځمونږ د محمديه امت په نسبت په خپله په قرآن کريم کې تصريح ده: ﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾ (۴ جزء د آل عمران سورت ۱۱۰ آيت ۱۲ رکوع) ﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ﴾ (۲ جزء د البقرة سورت ۱۴۳ آيت ۱۷ رکوع).

يَا قَوْمِ ادْخُلُوا الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِي كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِكُمْ فَتَنقَلِبُوا خَاسِرِينَ ﴿٢١﴾

ای قومه (ځما) ننوځئ تاسې ځمکې پاکې کړی شوې (د بيت المقدس، يا د شام، ياد ايليا، يا د اريحا) ته، هغه ځمکه چې مقرر کړېده الله تاسې ته (په لوح محفوظ کې په شرط د ايمان ستاسې) او بېرته مه ځئ تاسې په شاګانو خپلو (له جهاده) نو وبه ګرځئ تاسې زيانکاران (په سعي خپلې).

تفسير: يعني الله تعالى پخوا له دې نه له ابراهيم عليه السلام سره وعده فرمايلې وه، چې ستا اولادې ته به دا ملک ورکوم، او هغه وعده هرو مرو پوره کېدونکې ده، هغه خلق به نېکمرغه او بختور وي؛ چې د هغو په لاسو او وسيله دغه پوره شي.

«نو ننوځئ ! دې پاکې ځمکې ته ! او شا مه ګرځوئ ! له جهاده که نه نو سخت نقصان به وګالئ، يعني په جهاد في سبيل الله کې بې زړه توب، ويره، او بې همتي مه کوئ ! او د مريتوب (غلامۍ) د ژوندون په لور منډې مه وهئ !».

قَالُوا يَا مُوسَىٰ إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدْخُلَهَا حَتَّىٰ يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِن يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِنَّا دَاخِلُونَ ﴿٢٢﴾

وويل دغو (بني اسرائيلو) ای موسى ! بېشکه په دې ځمکه کې يو قوم دی ډېر زورور (چې مونږ يې د مقابلې طاقت نه لرو - يعني ډېر قوي هيکل، مېړنی، پياوړی او له رعبه ډک او ويروونکی دی) او بېشکه مونږ له سره نه ننوځو په دغې ځمکې کې تر هغې پورې چې ووځي دوی له دې (ځمکې نه) نو که ووځي دوی له دې ځايه (بې له جنګه) نو بېشکه مونږ ننوتونکي يو.

تفسير: يعني د مقابلې همت په مونږ کې نشته، هو ! بې د لاسونو او پښو د خوځولو څخه پخه او تياره خورو، تاسې د خپلې معجزې په زور دوی وباسئ !.

قَالَ رَجُلَانِ مِنَ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمَا ادْخُلُوا عَلَيْهِمُ الْبَابَ ۚ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَالِبُونَ ۚ ﴿۲۳﴾

وويل دوو سړيو له هغو کسانو چې وېرېدل (له الله نه) چې انعام (احسان) کړی وو الله په دوی دواړو چې ورننوځئ پر دوی (حمله کوونکي) په دروازو کې !، نو کله چې ورننوتئ تاسې دروازې ته نو بېشکه همدا تاسې به غالبان يئ (پر هغوی ځکه چې دوی بې زړه دي).

تفسير: دا دوه سړي يو «يوشع بن نون رحمه الله» او بل «کالب بن يوفنا رحمه الله» وو، چې له الله تعالى ځنې ويرېدل، نو ځکه د (عمالقه) او نورو څخه هيڅ نه ويرېدل.

وَعَلَى اللَّهِ فَتَوَكَّلُوا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿۲۳﴾

او (خاص) پر الله پس توکل وکړئ تاسې ! که يئ تاسې مؤمنان (باور لرونکي په وعده د الله).

تفسير: معلومه شوه چې د مشروعو اسبابو پرېښودل «توکل» نه دی، بلکه «توکل» دا دی چې د کوم نېک کار په کولو کې انتهايي سعي او کوښښ او آخري جد او جهد وکړ شي، بيا د هغه په مثمر او منتج کېدلو کې پاک الله ته هيله او هغه ته اسره وکړئ ! او په خپل زيار او کوښښ ونه نازيږئ ! او مه مغروريږئ !، باقي د مشروعو اسبابو پرېښودل او تش تور اميدونه او هيلې لرل، له سره «توکل» نه، بلکه تعطل دی.

قَالُوا يَا مُوسَى إِنَّا لَنْ نَدْخُلَهَا أَبَدًا مَا دَامُوا فِيهَا فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ ﴿۲۴﴾

وويل دغو (بني اسرائيلو) اى موسى ! بېشکه چې مونږ له سره نه ننوځو دې ښار ته هيڅکله؛ څو چې وي دغه (عمالقه) پکې، پس ځه ته او (ځي دې) رب ستا نو جنګ وکړئ تاسې دواړه، بېشکه مونږ دلته ناست يو (له جنګه، په انتظار د بري ستا).

تفسير: دا د هغه قوم مقوله او وينا ده چې د ﴿نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ﴾ مدّعيان وو، مګر داسې ګستاخي او سپين سترګي کول د دوی د دائمي تمرد او پرله پسې سرکښۍ او طغيان ځنې هيڅ لرې او مستبعد نه دی.

قَالَ رَبِّ إِنِّي لَا أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِي وَأَخِي فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ ﴿۲۵﴾

وويل (موسى) اى ربه (ځما) بېشکه زه مالک نه يم (اختيار نه لرم) مګر د ځان خپل او د ورور خپل (چې هارون دی) نو بيلتون (جدايي) وکړه په منځ ځمونږ او په منځ د قوم فاسقانو کې (چې د فرمان له دائرې نه وتلي دي).

تفسير: موسى عليه السلام د دوی د دې وينا څخه خورا زيات خپه شو، او د خپګان په حالت کې يې دا پورتنۍ دعا وکړه، څرنګه چې له ګردو قومونو څخه د حکم نه منل او بې زړه توب او عصيان ليدل کېده، نو ځکه يې په دعاء کې پرته له خپل ځان او له خپل ورور چې هغه هم يو معصوم نبي وو، د بل چا ذکر و نه فرمايه، يوشع «رحمه الله» او کالب «رحمه الله» هم د دوی دواړو سره طبعا راغلل.

قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ أَرْبَعِينَ سَنَةً ۚ يَتِيهُونَ فِي الْأَرْضِ ۗ فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ ﴿۲۶﴾

نو وفرمايل (الله) پس بېشکه دغه (مقدسه ځمکه) حرامه کړی شوې ده پر دوی باندې (ننوتل

هغې ته) څلو ښښت کاله، چې حیران سرګردان به ګرځي دوی په (همدې) ځمکه کې، نو مه خپه (او متأسف) کېږه پر قوم فاسقانو (وتونکي له فرمانه).

تفسیر: یعنې د بیلتون دعاء په حسي او ظاهري ډول سره خو قبوله نشوه، هو ! معناً بیلتون وشو، چې دوی ټول سره په الهي عذاب کې اخته شول، حیران او سرګردان به سره ګرځېدل، او موسی او هارون علیه السلام د رسالت په پوره اطمینان او ډاډه زړه سره خپل د ارشاد او اصلاح پر منصب قائم پاتې شول، لکه چې په کوم کلي کې عمومي طاعون یا وبا ګډه شوي وي، او د زرهاوو ناروغانو په منځ کې دوه درې تنه پیاوړې (مضبوط) او قوي القلب سړي وي، چې د دوی په دارو او درمل، معالجه، تفقد، او چاره جوړولو کې مشغول وي.

که د ﴿فَافْرُقْ بَيْنَنَا﴾ معنی د «بیلتون وکړه» په ځای په «فیصله وکړه» سره شوي وي، نو دا مطلب به لا زیات واضح شوی وي، شاه صاحب لیکي چې: دا ګرده قصه یې کتابیانو ته واورولې، په دې مناسبت که تاسې هم د نبي آخر الزمان صلی الله علیه وسلم رفاقت ونه کړئ ! لکه چې ستاسې نیکه ګانو د موسی علیه السلام له رفاقته سر غړولی وو، او له جهاده ځخه یې ځانونه بېرته ایستلي وو، نو دا نعمت به هم د نورو په برخه کیږي، لکه چې په برخه یې هم شو.

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ بِالْحَقِّ

او ولوله (ای محمده !) پر دغو (بني اسرائیلو یا پر قوم خپل) خبر د دواړو ځامنو د آدم (چې هابیل او قابیل وو) په حقه سره.

تفسیر: یعنې د آدم علیه السلام د دوو صُلبي ځامنو (قابیل) او (هابیل) قصه او واقعي حال دوی ته واوروه ! ځکه چې په دې قصه کې د هغه یوه ورور ذکر دی، چې د خپل بل ورور پر مقبولیت او تقوی یې حسد او رخه (کینه) کړېوه، او په همدې غیظ او قهر سره یې هغه په ناحقه سره وواژه، او د ناحقې وینې د عواقبو بیان پکې کړی شوی دی.

إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْآخَرِ

کله چې پیش کړه دواړو قرباني (د پسه او د غنمو د سترې الله ته)، نو قبول کړ شو (پسه) له یوه د دې دواړو نه (چې هابیل وو) او قبوله نشوه (د غنمو سترې) له بله (چې قابیل وو).

تفسیر: یعنې د هغې جینې نکاح چې آدم علیه السلام له خپل دستور سره سم له (هابیل) سره وترله؛ (قابیل) د هغې غوښتونکی شو، آخر د آدم علیه السلام په اشاره سره دوی دواړو د الله تعالی په دربار کې څه نذر وړاندې کړ، تر څو دغه جینې د همغه چا شي، چې نذر یې د پاک الله په دربار کې مقبول شي، آدم علیه السلام ته داسې یقین پیدا شوی وو، چې همدا د (هابیل) نذر به ومنل شي، لکه چې همداسې وشو، او آسماني اور ښکاره شو، او د (هابیل) نذر یې یووړ، او همدا په هغه وخت کې د «قبول عند الله» قرینه او علامه وه.

قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَ

وویل (قابیل) چې خامخا به ووژنم تا هرو مرو (خامخا) (ای هابیله !)،

تفسیر: یعنې (قابیل) د دې مقبولیت له لیدلو ځنې د حسد او رخې (بغض) په اور کې وسوځېد، او د دې په ځای چې د مقبولیت وسائل ځان ته غوره کړي، له ډېره غیظه او غضبه یې په خپل حقیقي ورور باندې د وژلو توربر ښبس وکړ.

قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ ﴿٢٧﴾

وويل (هابيل قابيل ته) چې بېشكه همدا خبره ده چې قبلوي الله (قرباني) له پرهېزګارانو نه.

تفسير: يعنې (هابيل) وويل چې: په دې کې ځما څه قصور دی، د الله تعالى په دربار کې د هيڅا زور او قوت نه چليږي، او يواځې هلته تقوى پکاريږي، ګواکې ځما هغه نذرانه چې مقبوله شوه، د هغې سبب تقوى وه، که ته هم ځان ته تقوى غوره کړې؛ نو الله تعالى له تا سره څه مخالفت نه لري.

لَئِنْ بَسَطْتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِي مَا أَنَا بِبَاسِطٍ يَدِيَ إِلَيْكَ لِأَقْتُلَكَ ۖ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ ﴿٢٨﴾

قسم دی خامخا که دې راوغځاوه تا (ای قابيله) ما ته لاس خپل لپاره د دې چې ته ووژنې ما؛ نو نه يم زه غځوونکی د لاس خپل تاته چې ووژنم تا، بېشكه زه ويرېږم له الله چې رب (پالونکی د ګردو) عالميانو دی.

تفسير: ﴿إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ﴾ الآية - «بېشكه چې زه ويرېږم له الله چې پروردګار د ګرد جهان دی» يعنې زه له تا څخه نه ويرېږم، بلكه له الله تعالى څخه ويرېږم، او غواړم تر هغه پورې چې شرعا امكان وي، د خپل ورور په وينو خپل لاسونه ونه لړم.

أيوب سختياني (رحمه الله) به ويل: په محمدي امت کې هغه لومړنی سړې چې په دې آيت يې عمل وکړ، او خلقو ته يې خپل دا تعميل ورښكاره کړ؛ صاحب الحياء، جامع آيات القرآن ذو النورين سيدنا (عثمان بن عفان رضي الله عنه) وو «ابن كثير» - چې ده خپل سر جار (قربان) کړ، ولې په دې باندې خوښ او رضا نشو؛ چې د ده د سر په مقابل کې د يوه مسلمان ګوته هم پرې شي، رضي الله تعالى عنه.

إِنِّي أُرِيدُ أَنْ تَبُوءَ بِإِثْمِي وَإِثْمِكَ فَتَكُونَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ ۚ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الظَّالِمِينَ ﴿٢٩﴾

په تحقيق زه اراده لرم د دې چې رجوع وکړې (اخته شې) ته په ګناه د (وژلو) زما او په ګناه خپلې (چې پخوا دې کړې وه) نو شې به ته له صاحبانو (ملګريو) د اور (د دوزخ)، او همدا (اور) دی جزا د ظالمانو (چې په ناحقه ويني تويوي).

تفسير: يعنې ځما د قتل ګناه هم له خپلو نورو ګناهو سره يو ځای کړه، ستا د ګرد عمر ګناهونه ستا پر غاړه ثابت دي، او زما د وينې ګناه به هم لا پرې زياته شي، او د مظلوميت له امله (وجې) به زما ګرد ګناهونه رامعاف شي، ابن جرير «رحمه الله» د مفسرينو اجماع نقل کړېده چې ﴿بِإِثْمِي﴾ معنى همدا ده.

باقي هغه كسان چې دا يې ليكلي دي چې: په قيامت کې به د مظلوم ګناه په ظالم باندې اچوله كيږي؛ هغه مضمون هم په يوه حيثيت سره صحيح دی، مګر د محققينو په نزد هغه د دې آيت تفسير نه دی.

اوس د (هابيل) د كلام حاصل دا دی «كه تا هم داسې نيت کړی وي، چې ځما د وژلو وبال پر خپله غاړه واخلې، نو ما داسې اراده کړېده، چې د خپل ځان هيڅ مدافعه له خپله لوري ونه کړم، تر څو چې د عزيمت د ترک خبره هم پر ما باندې رانشي».

فَطَوَّعَتْ لَهُ نَفْسُهُ قَتْلَ أَخِيهِ

نو ښايسته کړ دغه (قابيل) ته (امّاره) نفس د ده: وژل د ورور د ده (چې هابيل وو)

تفسير: ښايي په ابتداء کې لږ څه وېره او خوف ورپيدا شوی وي، او ورو ورو امّاره نفس به دا خيال پوخ کړی وي، او همدا کيفيت عمومًا د معاصيو په ابتداء کې پيدا کيږي.

فَقَتَلَهُ فَأَصْبَحَ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٣٠﴾

بيا وواژه (قابيل) دغه (هابيل) نو وګرځېد (قابيل په دنيا او عُقبى کې په سبب د قتل د هابيل) له زيان کارانو.

تفسير: دنيوي خُسران خو دا دی چې داسې يو ښه ورور يې له لاسه وايست؛ چې د ده مټ او ملاتړ وو.

په حديث شريف کې راغلي دي: «ظلم» او «قطع رحم» دا دواړه داسې ګناهونه دي، چې له آخرته پخوا په همدې دنيا کې د هغو سزا ورکوله کيږي»، او اخروي خسران يې دا دی چې په دنيا کې د ظلم، قطع رحم، قتل عمد، او د بد امنۍ د دروازې له خلاصولو څخه (قابيل) د هغو ګردو ګناهونو د سزا مستوجب هم کيږي؛ چې وروسته له دې نه له دې نوعې ګناهونو ځنې په دنيا کې وکړی شي، او دی به په هغو ګردو کې د باني کېدلو له وجې شريک ګڼه شي، لکه چې په حديث شريف کې هم مصرح ده.

فَبَعَثَ اللَّهُ غُرَابًا يَبْحَثُ فِي الْأَرْضِ لِيُرِيَهُ كَيْفَ يُوَارِي سَوْءَةَ أَخِيهِ ۚ قَالَ يَا وَيْلَتَىٰ أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هَٰذَا الْغُرَابِ فَأُوَارِيَ سَوْءَةَ أَخِي ۚ فَأَصْبَحَ مِنَ النَّادِمِينَ ﴿٣١﴾

نو ولېږه الله يو کارغه چې کيندل يې کول په ځمکه کې (په منښوکه او پنجو خپلو سره) لپاره د دې چې وښيي دغه (قابيل) ته چې څرنګه پټه کړي جثه د ورور خپل (هابيل)، وويل (قابيل): اى افسوسه ځما راشه دغه دې وخت دی (يعنې افسوس دی ماته) آيا عاجز وم زه له دې چې کېدی په شان د دې کارغه (په پوهه کې) نو پټه کړې به مې وه جثه د ورور خپل، نو وګرځېد (قابيل په دې قتل د هابيل سره) له پښېماني کوونکو څخه.

تفسير: کله چې پخوا له دې نه بل کوم انسان نه وو مړ، نو ځکه (قابيل) پس له وژلو د (هابيل) څخه نه پوهېده چې دی د خپل ورور له مړي سره څه وکړي؟ تر څو چې يې يو کارغه ولېد چې په ځمکه کې کنده کيني ـ او د بل کوم کارغه مړی پکې پټوي، نو د هغه له ليدلو ځنې د (قابيل) سر ته څه عقل ورغی، او له خپل ځانه سره يې وويل چې: «ښايي زه هم د خپل ورور مړی په ځمکه کې همداسې خښ کړم»، او ده ته ارمان او افسوس هم ورغی چې: «زه په پوهه، عقل او فهم او له ورور سره په خواخوږۍ او همدردۍ کې له دې کارغه څخه هم ښکته يم»، ښايي چې حق تعالى د دې له امله د يوه ادنى ساکښ (ذي روح) په وسيله (قابيل) ته داسې تنبيه ورکړه چې هغه له خپله وحشته او حماقته لږ څه وشرميږي، او متأثر شي.

په ساکښانو (ذي روحو) کې د کارغه دا خصوصيت دی، چې د خپل ورور د مړي په ښکاره پاتې کېدلو باندې ډېر زيات شور ماشور کوي.

﴿فَأَصْبَحَ مِنَ النَّادِمِينَ﴾ «نو وګرځېد قابيل په دې قتل د هابيل سره له پښېماني کوونکو څخه»، هغه افسوس او ارمان ښه نافع دی، چې له ګناه ځنې معذرت، انکسار، فکر او تدارک هم وي، په دې موقع کې د (قابيل) افسوس او ارمان کول د الله تعالى په عصيان او نا فرمانۍ نه وو، بلکه په خپل هغې بدحالۍ باندې وو، چې د خپل هغه ورور (هابيل) له وژلو څخه وروسته ور رسېدلې وه.

مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ ۚ كَتَبْنَا عَلٰى بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ أَنَّهُۥ مَن قَتَلَ نَفْسًۢا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِى ٱلْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ جَمِيعًا ۚ وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحْيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعًا ۚ

په سبب د دې (قتل) ليکلي وو (حکم کړی وو) مونږ پر بني اسرائيلو چې بېشکه شان دا دی: هر څوک چې ووژني يو نفس بې له (عوض، بدل د) بل نفس نه (يا بې) له فساده په ځمکه کې (چې په ملک کې يې فساد کړی وي) نو ګواکې وژلي يې دي خلق ټول، او هر چا چې ژوندی کړو دغه (يو نفس چې سبب شي د ژوندون يې) نو ګواکې ژوندي کړي يې دي خلق ټول.

تفسير: په ملک کې د فساد اچولو ډېر صورتونه دي، مثلا العياذ بالله اهل حق له حق دين ځنې منع کړي، يا د انبياوو عليهم السلام اهانت وکړي، يا مرتد شي، او د دې خبرې وسيله وګرځي چې نور کسان هم له خپله ځانه سره مرتد او بې دينه کړي ترغيب کړي، (يا لاره وهل يا زنا د محصن) وقس على ذلک.

«او هر چا چې ژوندی کړ يو نفس: چې سبب شي د ژوندون يې؛ نو ګواکې ژوندي کړي يې دي خلق ټول».

لومړی د ځمکې په مخ کې لويه ګناه همدا پېښه شوه، چې (قابيل) د (هابيل) قاتل شو، او وروسته له هغه ناحقه قتل رسم شو، نو ځکه په «تورات» کې داسې فرمايل شوي دي: «که څوک يو سړی ووژني؛ ګواکې چې ګرد خلق ووژني»، يعنې د يوې ناحقې وينې له تويولوځنې نور هم پر هغه جرم زړور کيږي، نو په دې حيثيت سره هر هغه سړی چې بل ووژني؛ ګواکې د بد امنۍ تاداو (بنياد) ږدي، او هغه د ګردو انسانانو د وژلو او د عمومي بد امنۍ ور پرانيځي، او هغه څوک چې يو سړی ژوندی کوي، يعنې د کوم ظالم قاتل له لاسه يې ژغوري (ساتي)؛ يا هم د کوم ناروا قتل مخه نيسي، ګواکې دی په خپل دې عمل سره نورو ګردو انسانانو ته هم د ژغورلو (ساتلو) او مأمون پاتې کېدلو دعوت ورکوي، او دغې نېکۍ ته دوی ګرد سره رابولي.

وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِٱلْبَيِّنٰتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم بَعْدَ ذٰلِكَ فِى ٱلْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ ﴿٣٢﴾

او خامخا په تحقيق راغلي وو دوی ته رسولان ځمونږ په حکمونو بېکاره، بيا په تحقيق سره ډېر له دوی نه پس له دې (راتلو د رسولانو نه هم) په ځمکه (په ملک) کې خامخا مسرفان (له حده تېريدونکي) دي.

تفسير: ځينې علماو له «بينات» څخه بېکاره حکم مراد کړی دی، او دا هم ممکن دي چې له «بينات» څخه هغه بېکاره معجزې او دلائل مراد وي، چې هغو سره د کوم رسول د ﴿مِنْ عِنْدِ اللهِ﴾ کېدلو تصديق وشي، يعنې د (بني اسرائيلو) ډېرو خلقو داسې بېکاره آثار ليدلي دي، او ډېر هسې بېکاره حکمونه يې اوربدلي دي، خو سره له هغه هم له خپل ظلمه او طغيانه او تيري څخه يې لاسونه نه دي اخيستي، د معصومو انبياوو عليهم السلام وژل او په خپلو منځو کې ناحقې وينې تويول د دوی دائمي عادت دی، او نن ورځ هم د خاتم الأنبياء صلى الله عليه وسلم د قتل (معاذ الله) يا ايذاء او د مسلمانانو آزار او تذليل لپاره هر راز ناولي پلمې (منصوبې) او سازشونه کوي.

إِنَّمَا جَزَٰٓؤُا۟ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓا۟ أَوْ يُصَلَّبُوٓا۟ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ أَوْ يُنفَوْا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ ۚ ذٰلِكَ لَهُمْ خِزْىٌ فِى ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٣٣﴾

بېشکه همدا خبره ده چې جزا د هغو کسانو چې جنګ کوي دوی له (دوستانو) د الله او د رسول

د ده سره، او سعي کوي (منډې وهي) دوی په ځمکه (په ملک) کې لپاره د فساد (او بد امنۍ غورځولو) چې دوی ووژلی شي، یا دې په دار کړ شي، یا دې پرې کړی شي لاسونه د دوی او پښې د دوی سره مخالفې (یعنې ښې لاس او کینه پښه یا عکس د دې) یا دې وشړلی شي له ځمکې (په حبس سره یا له هغه ځایه بل لري ځای ته) دا (مذکوره جزا) دغو (غلو) ته رسوایي ده، په دنیا کې او (شته) دغو (غلو) ته په آخرت کې عذاب ډېر لوی.

تفسیر: اکثر مفسرین له دې ځخه لاره شُوکول او داړه اچول مرادوي، مګر که دا الفاظ په خپل عموم باندې پرېښود شي؛ نو مضمون لا وسیع کیږي، د دې آیت هغه شان نزول چې په صحیحو احادیثو کې راغلی دی، هغه هم د همدې مُدّعا مُقتضي دی، چې دا الفاظ پر خپل عموم پرېښود شي.

«له الله جل جلاله یا د ده له رسول صلی الله علیه وسلم سره جنګ کول» یا «په ځمکه کې فساد یا بد امني خورول» دا دواړه لفظونه داسې دي، چې په دې کې د کفارو حملې، د ارتداد، فتنې، لار شکول، داړه اچول، نا حق قتلول، نهب، مجرمانه پلمې (منصوبې)، اغوا کوونکي نشرات، او مضر تبلیغات ګرد سره داخلېدی شي، او له دې ځنې هر یو جرم داسې دی، چې د هغه مرتکب له دې څلورو واړو سزاګانو څخه چې پاس په دې آیت کې ذکر شوي دي، د یوې نه یوې هرو مرو مستحق ګرځي.

د غلو احوال څلور صورتونه لري:

۱ - چې مرګ یې کړی وي، مګر مال وړلو ته یې لاس نه وي رسېدلی. (نو داسې غله دې مړه کړی شي !).

۲ - چې هم یې مرګ کړی وي، او هم یې مال وړی وي، (نو داسې غله دې وروسته له وژلو پر دار کړی شي !).

۳ - چې مال یې لوټ کړی وي، خو مرګ یې نه وي کړی (نو د داسې غله دې لاسونه او پښې سره مخالفې پرې کړی شي).

۴ - چې نه یې وژل کړي و ي، او نه یې مال وړی وي، او د قصد او تیارۍ نیولو څخه وروسته نیول شوی وي، (نو داسې غله دې په بندې کولو سره د مځکې له مخ څخه ورک شي)، په دغو څلورو حالتونو کې بالترتیب هم دا څلور سزاګانې مقرري دي، چې پاس (په آیت او بین القوسین کې) ذکر شوي دي، د غلو بل کوم لرې ځای ته فرارول او هلته یې بندي کول او قید ساتل د امام (ابو حنیفه رحمه الله) مذهب دی.

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ ۖ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٤﴾

مګر هغه کسان چې توبه وباسي پخوا له هغه نه چې قادر شئ (تاسې) پر هغوی باندې (نو دا حدود الله ترې ساقطېږي) نو پوه شئ په دې چې بېشکه الله ښه مغفرت کوونکی ډېر رحم کوونکی دی.

تفسیر: دا پاس ذکر شوې سزاوې چې د حدود الله او «حق الله» پر ډول دي، دا ګردې پخوا له نیولو څخه په توبه ایستلو سره معافېدی شي، مګر حقوق العباد نشي معافېدلی، یعنې که د چا مال یې اخیستی وي؛ نو ضمان ورکول پرې اوړي، که قتل یې کړی وي، نو قصاصېږي، هو د دې شیانو معافول د مال د خاوند او د مقتول د ولي حق دی.

تنبیه: له دې حد څخه ما سوا نور حدود په توبه باندې له سره نه ساقطېږي، لکه د زنا حد، د شرب الخمر حد، د سرقې حد، د قذف حد.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱبۡتَغُوٓاْ إِلَيۡهِ ٱلۡوَسِيلَةَ

ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) وويرېږئ تاسې ! له الله، او طلب کړئ ! ده ته وسيله (په طاعت سره).

تفسير: د «الوسيلة» تفسير ابن عباس رضي الله تعالى عنه، مجاهد، أبو وائل، حسن او نورو أسلافو او مشرانو رحمهم الله په «قربت» سره کړی دی، نو د وسيلې لټولو معنی به دا وي چې: د هغه د قرب وسيله ولټوئ !، قتادة «رحمه الله» ويلي دي: «أي تقربوا إليه بطاعته والعمل بما يُرضيه» «د الله تعالى نژدېوالی حاصل کړئ ! په حکم منلو د ده او په غوره عمل»، يو شاعر وايي:

إذا غفل الواشون عُدنا لوصلنا *** وعاد التصافي بيننا والوسائل

په دې کې هم دغه د قرب او اتصال معنی مراد ده، او همداسې دی هغه چې په حديث کې راغلي دي چې «وسيله» په جنت کې يو ډېر ښه اعلی منزل دی، چې د دنيا کوم يوه بنده ته ور رسيږي، رسول الله مبارک ارشاد فرمايلی: «وروسته له آذانه له الله جل جلاله ځنې ځما لپاره هم دغه مقام وغواړئ !»، نو د هغه مقام نوم هم «وسيله» د همدې له امله ايښی شوی دی، چې د جنت له ګردو منازلو ځنې هغه مقام (عرش الرحمن) ته نژدې دی، او حق تعالی د قرب په مقاماتو کې له ګردو ځخه پاس واقع دی.

په هر حال لومړی يې وفرمايل چې: ووېرېږئ ! له الله جل جلاله ځنې، ليکن دا ويرېدل داسې نه دي لکه چې سړی له مار يا لړم يا زمري يا ليوه يا نورو ځنې ويرېږي ! او ترې لرې تښتي؛ بلکه له دې خبرې ځخه ووېرېږئ چې د ده له خوښې او رحمت ځخه لرې چېرې ونه لوېږئ ! نو ځکه يې وروسته له ﴿ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ﴾ ځخه ﴿وَٱبۡتَغُوٓاْ إِلَيۡهِ ٱلۡوَسِيلَةَ﴾ وفرمايل، يعنې د ده له ناخوښې، لرېوالي، او بيلتون ځخه ووېرېږئ !، او د وصول او قرب الی الله د حصول لپاره کوښښ وکړئ !، او ښکاره ده چې له کوم شي سره مونږ هلته قريب کېدی شو، چې تر هغه پورې د رسېدلو ګردې لارې قطعې (طی) کړو، او پر هغې باندې په تللو هغه ته ور رسېدی شو، نو د همدې په نسبت فرمايي: ﴿وَجَٰهِدُواْ فِي سَبِيلِهِۦ﴾ «جهاد وکړئ د ده په لاره کې» يعنې پر هغې باندې د تللو ښه پوره کوښښ وکړئ ﴿لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ﴾ «ځو تاسې دهغه قرب حاصل کړئ، او په خپل مراد ورسېږئ او بريالیان (کامياب) شئ !».

«توسل» يوله هغه الفاظو ځنې دی چې په هغی کې اجمال او ابهام دی، نو دهغی نفي مطلقاً يا اثبات مطلقاً دواړه صحيح نه دي، بلکه په دې کې تفصيل دی، ځکه توسل په دوه ډوله دی:

لومړی: روا او مشروع توسل، لکه د الله تعالی په نومونو، صفتونو توسل کول، او هغه الله تعالی ته وسيله ګرځول، لکه چې ووايي: ای الله، ته رحيم يې، پر مونږ رحم وکړې، ته غفور، غفار يې، مونږ ته ګناهونه را معاف کړې، ته رزاق يې، مونږ ته روزي راکړې، ته خالق، وهاب يې؛ مونږ ته اولاد راکړې، او همداسې نور نومونه او صفتونه.

او يا هم پر خپل کوم نېک عمل، يا پر خپل ايمان، يا د الله تعالی سره، يا د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم سره، يا د صحابه کرامو او نېکانو مسلمانانو سره پر محبت کولو توسل وکړي، يعنې الله تعالی ته يې وسيله کړي، او له الله تعالی ځخه د دغه نېک عمل په وسيله کومه غوښتنه وکړي، لکه د آل عمران سورت په دې آيت کې چې راغلي: ﴿رَبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعۡنَا مُنَادِيٗا يُنَادِي لِلۡإِيمَٰنِ أَنۡ ءَامِنُواْ بِرَبِّكُمۡ فَـَٔامَنَّاۚ رَبَّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرۡ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلۡأَبۡرَارِ﴾.

او يا لکه چې د حديث الغار هغه درې کسانو قيصه چې هغوی په يوې بارانی ورځ په کوم غار کې ننوتي وو، او بيا د غار خوله پر کومه غټه تيږه بنده شوه، او هيڅ کومه لار د خلاصون نه وه، نو درې واړو سره مشوره وکړه چې نن ورځ بايد الله تعالی ته خپل هغه نېک عمل وسيله کړو چې مخکې مو کړی وو، او بيا هر يوه خپل خپل عمل الله ته وسيله کړ، او الله له دغه مصيبت ځخه خلاص کړل.

او په آيت کې هم ورته اشاره شوې ده، چې د وسيلې د امر نه وروسته يې د جهاد في سبيل الله امر کړی دی، او دا هم يو بهتر عمل دی.

او يا هم کوم نېک صالح ژوندي انسان ته ورشي، او دعا ورڅخه وغواړي، چې ماته دعا وکړه، چې الله تعالی مې دغه مقصد پوره کړي، لکه چې صحابه کرام به رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورتلل، او دعا به يې ترې غوښتله.

دويم ډول: ممنوع توسل دی، او هغه په دوه ډوله دی:

لومړی ډول: شرکي توسل، چې په هغه کې د الله تعالی څخه پرته بل چاته آواز، چيغه، او له هغه څخه د حاجت غوښتنه شوي وي، ځکه چې دا په اصل کې توسل نه بلکه دعا او استغاثه ده، چې په مافوق الأسباب امورو کې عبادت ګڼل کيږي، او هغه يواځې د الله تعالی حق دی، نو بل څوک په کې شريکول د الله تعالی سره شرک او کفر ګڼل کيږي، لکه چې يو مړي يا غائب څخه څه حاجت وغواړي، يا ورته ووايي چې: زما لپاره دغه حاجت له الله نه وغواړه.

دويم ډول: بدعي توسل، چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم د هغه له وفات څخه وروسته الله جل جلاله ته وسيله کړي، لکه چې ووايي: د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په خاطر، وسيله، يا په روی زما دغه حاجت پوره کړه، نو دا کار بدعت ګڼل کيږي، ځکه په شريعت کې د دې اجازه نه ده شوې، او نه هم د هغه صحابه کرامو دغه ډول توسل کړی دی.

وَجَٰهِدُوا۟ فِى سَبِيلِهِۦ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣٥﴾

او جهاد وکړئ په لاره د ده کې (د کلمة الله د اعلاء په غرض) لپاره د دې چې په مراد ورسېږئ (خلاص شئ له عذابونو).

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ لِيَفْتَدُوا۟ بِهِۦ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٣٦﴾

بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي، که وي دوی ته هغه (اقسام د اموالو) چې په ځمکه کې دي ټول، او په قدر د دې نور (هم) له دې سره شي، لپاره د دې چې فديه وکړي دوی په هغه سره له عذابه د ورځې د قيامت څخه؛ نو قبوله به نه کړه شي (دا فديه) له دوی څخه، او شته دوی ته عذاب ډېر دردناک.

تفسير: د آخرت برې او کاميابي په «تقوی»، «ابتغاء الوسيلة» او په «جهاد في سبيل الله» سره حاصلېدی شي، او په رشوت او فديه او نورو پلمو (منصوبو) سره له سره نه حاصليږي.

يُرِيدُونَ أَن يَخْرُجُوا۟ مِنَ ٱلنَّارِ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنْهَا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٣٧﴾

اراده به کوي (غواړي به) دوی چې ووځي دوی له اوره (د دوزخ) حال دا چې نه به وي دوی وتونکي له هغه اوره، او شته دوی ته عذاب دائم (بې انتهاء بلا انقطاع).

تفسير: له ډېرو احاديثو څخه ثابته شوې ده، چې ډېر ګناهګار مؤمنان به تر يوې مودې پورې په دوزخ کې پاتې کيږي، او بيا به ايستلی کيږي، او د الله تعالی په فضل او مرحمت سره به جنت ته داخليږي، دا آيت له دغو احاديثو څخه مخالف نه دی، ځکه دلته په دې آيت کې له ابتداء څخه يواځې د کفارو حال بيان شوی دی، او د مؤمنانو په نسبت هيڅ يوه خبره نشته.

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوٓا اَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۳۸﴾

او غل (نارينه) او غله (ښځه) نو پرې کړئ تاسې لاسونه د دوی (دواړو) لپاره د جزا د هغه عمل چې کړی دی دواړو د تنبیه لپاره له جانبه د الله، او الله ډېر قوي دی (غالب په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

تفسیر: ﴿جَزَآءً﴾ الآیة ـ یعنې هغه سزا چې غله ته ورکوله کیږي، هغه د مسروقه مال سزا نه ده، بلکه د ده د فعل «سرقې» سزا ده، تر څو چې په هغه سره نور غله ویښ او تنبیه شي، بلا شبهه پر هر هغه ځای کې چې دا حدود جاري کیږي؛ نو دوه ـ درې غلو ته د سزا ورکولو څخه وروسته د غلا وَر بیخي بندیږي.

نن ورځې د نوي «تهذیب» مدّعیان دا راز حدود وحشیانه سزا بولي، لیکن که غلا کول د دې صاحبانو په نزد «یو مهذب کار» نه وي؛ نو یقینا د دوی «مهذبه» سزا د دې غیر مهذب کار (غلا) استیصال او له منځه وړلو کې له سره مؤثر نشي واقع کېدی، که د لږ څه سختی په تحمل سره ډېر غله مهذب شي؛ نو ښایي چې دغه د تهذیب حاملان او مدعیان خوښ شي، ځکه چې د دوی له «تهذیبي مشین» سره دغه «وحشت» مدد کوي.

ځینې په نامه مفسرین هم په دې کوښښ کې دي، چې «قطع الید» لاس پرې کول د غلا انتهایي سزا وټاکي ! (مقرر کړي)، او له دې ځنې ښکته او خفیفه سزا له حق شریعت څخه حاصله او استخراج کړي، مګر مشکل خو دادی چې له دې ځنې ښکته سزا نه په قرآن کریم کې چېرې شته، او نه د نبوت په عهد او د لویو اصحابو په زمانو کې د هغې کوم نظیر او مثال لیدلی شوی دی، آیا کوم سړی داسې دعوی کولی شي، چې په دومره اوږده زمانه کې په هغو غلو کې چې نیولي شوي دي یو تن هم ابتدایي غل نه وو، چې پر هغه باندې یوائې د جواز په ملحوظ د لاس پرې کولو په ځای کومه ابتدایي سزا تطبیق او جاري شوي وي؟.

کوم ملحد په پخوانی زمانه کې پر «حد السرقه» داسې یوه شبهه کړې وه: «کله چې شریعت د یوه لاس دیت پنځه سوه دیناره مقرر کړی دی، نو داسې یو قیمتدار لاس (چې پرې پرېکولو یې پنځه سوه دیناره واجبیږي) د پنځو یا لسو روپیو په غلا کولو به څرنګه امکان ولري، چې پرې کړی شي؟» یوه عالم د ده په ځواب کې څنګه ښه ویلي دي ! : «إنها لما کانت أمینة کانت ثمینة، فلما خانتْ هانتْ» «کله چې هغه لاس امین وو؛ قیمت یې درلود (لرلو)، کله چې یې غلا وکړه او خائن شو؛ نو ذلیل شو»، نو قیمت یې کم شو.

﴿وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ﴾ «او الله ډېر قوي غالب دی، ښه حکمت والا» لکه چې غالب دی نو ځکه حق لري هر هغه حکم چې اراده یې وکړي؛ جاري یې کړي، او هیڅوک د ده په مقابل کې څه نشي ویلی، او څنګه چې ورسره حکمت والا هم دی؛ نو ځکه د دې خبرې هیڅ احتمال نشته، چې تش د خپل کامله اختیاره کار واخلي، یا بېځایه حکم نافذ کړي، او د خپلو ناتوانو بندګانو د مالونو د ساتنې لپاره څه انتظام ونه کړي ـ دا د ده له عزت او غلبې سره منافي دی ـ او د غلو او داړه مارانو هم داسې خوی او آزاد (او بې له نښې) پرېښودل د ده له حکمت څخه مخالف کار دی.

فَمَنْ تَابَ مِنْۢ بَعْدِ ظُلْمِهٖ وَاَصْلَحَ فَاِنَّ اللّٰهَ يَتُوْبُ عَلَيْهِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۹﴾

نو هر چا چې توبه وویسته (له بدو کارونو) وروسته له ظلم خپل او اصلاح (ښه یې کړ عمل خپل)؛ پس بېشکه الله رجوع کوي (په رحمت سره) په ده، بېشکه الله ډېر مغفرت والا دی (د خطیاتو) ښه مهربان دی.

تفسیر: یعنې توبه که رښتیا او د زړه څخه وي، چې د هغې لپاره دا هم ضروري ده، چې د غلا مال دې د هغه مالک ته بېرته ورکړي، او که ترې تلف شوی وي؛ نو ضمان دې ورکړي، او که ضمان هم نشي ورکولی؛ نو ښښنه دې ترې وغواړي،

او پر خپل دغه فعل دې نادم او پښېمانه شي، او وروسته له هغه دې تر د ځان ژغورنې (بچ کولو) عزم وکړي، نو له داسې توبې ایستلو ځنې هیله (امکان) او امید شته چې حق تعالی له ده ځخه أخروي عقوبت هم لرې کړي، چې د هغه په مقابل کې دنیوي سزا هیڅ اهمیت نه لري.

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۖ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ ۗ وَاللَّهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ۝٤٠

آیا نه پوهېږې (ای محمده ! یا ای سامعه) چې بېشکه الله (خاص) دی ده ته ملک (سلطنت) د آسمانونو او ځمکې، په عذابوي (الله) هر هغه څوک چې اراده وفرمایي (د عذاب یې)، او مغفرت کوي هر هغه چا ته چې اراده وفرمایي (د مغفرت یې)، او الله پر هر شي باندې ښه قادر دی (نو په تعذیب او مغفرت هم قادر دی).

تفسیر: کله چې حقیقي سلطنت او حکومت د الله تعالی دی، نو بلا شبهه دی اختیار لري، هر هغه څوک چې مناسب وګڼي، معاف یې کړي، او هر هغه چا ته چې په خپل حکمت او عدل سره د سزا ورکولو اراده وکړي، سزا ورکوي، او نه یواځې دا چې د ده په معافولو او سزا ورکولو کې ده ته کلي اختیارات حاصل دي، بلکه د دې اختیاراتو له استعمالولو ځخه یې هیڅوک نشي منع کولی، ځکه چې دی پر هر شي باندې پوره قوت او قدرت لري.

يٰٓأَيُّهَا الرَّسُولُ لَا يَحْزُنْكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ مِنَ الَّذِينَ قَالُوٓا ءَامَنَّا بِأَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِنْ قُلُوبُهُمْ ۛ وَمِنَ الَّذِينَ هَادُوا ۛ سَمّٰعُونَ لِلْكَذِبِ سَمّٰعُونَ لِقَوْمٍ ءَاخَرِينَ ۙ لَمْ يَأْتُوكَ ۖ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ مِنْ بَعْدِ مَوَاضِعِهِ ۖ

ای (ځما) رسوله (محمده !) په غم کې دي نه آچوي تا (فعل د) هغو کسانو چې جلتي کوي (او عناداً ځانونه غورځوي) په کفر کې؛ له هغو کسانو چې ویل دوی: ایمان راوړی دي مونږ (تش) په خولو، حال دا چې ایمان نه وو راوړی زړونو د دوی، او ځینې له هغو کسانو چې یهودیان دي (یعني د بني قریظې یهودیان او د مدینې منافقان) ډېر اوریدونکي دي لپاره د دروغ ویلو، ډېر اوریدونکي دي (د خبرو ستا یعني دوی جاسوسان دي لپاره د رسولو) قوم بل ته چې نه دي راغلي تاته، آړوي دوی کلمې (د تورات) وروسته له هغو ځایونو خپلو ځخه (چې الله ایښي دي).

تفسیر: په پخوانیو آیاتونو کې د داړې، غلا او د نورو د حدودو بیان وکړ شو، اوس د ځینو هغو نورو اقوامو احوال اورول کیږي، چې دوی په حدود الله کې تحریفات وکړل، او خپل ځانونه یې د لوی عذاب مستحق وګرځول، «بغوي» رحمه الله د دې واقعې تفصیل داسې لیکلی دی:

«د خیبر یو محصن نارینه یهودي له یوې یهودۍ ښځې سره چې محصنه وه؛ زنا وکړه، سره له دې چې په (تورات) کې د دې جرم سزا رجم (په ګټو سره ویشتل) وو، مګر د دې دواړو اعتبار او لویي د هغه «رجم» د اجراء کېدلو مانع وګرځېدل، نو په خپلو منځونو کې یې سره مشوره وکړه، او ویې ویل: «دا سړی چې په یثرب کې دی محمد صلی الله علیه وسلم، د ده په کتاب کې د زاني لپاره د (رجم) حکم نشته، بلکه د دُرې وهلو حکم شته، نو د «بني قریظې» له یهودانو ځنې څو سړي ورولېږئ ! ځکه چې «بني قریظه» د محمد همسایګان او له محمد سره د روغې معاهده هم لري، چې دوی د هغه خیال معلوم کړي»، هماغه وو چې یو څو تنه د دې خبرې لپاره ولېږل شول، چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نظریه معلومه ـ او دا پوښتنه ترې وکړي چې د «محصن زاني» لپاره څه سزا تجویزوي؟ «که دی د دُرې وهلو د سزا حکم وکړي؛ نو ترې اقرار

واخلئ او ويې منئ، او که د (رجم) حکم واورئ؛ نو مه يې منئ !» د دوی د دې پوښتنې په نسبت رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې: «آيا تاسې زما پر فيصله قانع او راضي يئ؟» دوی اقرار وکړ چې «هو !»، دلته د پاک الله له لوري جبرئيل علیه السلام د «رجم» حکم راوړ، مګر هغوی له خپل اقراره بېرته وګرځېدل، بالآخر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «ستاسې لوی عالم د «فدک» اوسېدونکی (ابن صُوريا) څنګه سړی دی؟ ګردو وويل چې: «نن په ګرد جهان کې د ده په شان په موسوي شرائعو ډېر پوه او نبه عالم بل څوک نشته»، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه راوغوښت، او په ډېر سخت حلف سره يې تر پې پوښتنه وکړه چې په «تورات» کې پر دغې ګناه څه سزا مقرره ده؟ سره له دې چې نورو يهودانو د دغه حکم په پټولو کې له هر ممکن کوښښ څخه کار آخيست ـ ولې د دوی دغه پرده د عبد الله بن سلام په وسيله له منځه تللې وه، او حقيقت ښکاره شوی وو، خو سره له هغه (ابن صُوريا) چې د دوی مُسَلّم او معتمد عالم وو؛ په هر ډول سره چې وو، په دغې خبرې يې اقرار وکړ، چې د دې جرم سزا په «تورات» کې همدا (رجم) دی، وروسته له هغه (ابن صُوريا) هغه ګرد حقائق هم څرګند کړل، چې يهودانو په څه ډول سره د (رجم) حکم ليرې او د هغه په ځای يې دا حکم ليکلی دی چې: زاني دې په دُرې سره ووهلی شي، او مخ يې تور او په خره باندې دې چپه سپور ګرځاوه شي.

الحاصل رسول أکرم صلی الله علیه وسلم پر هغو دواړو (نارينه او ښځې) باندې د (رجم) امر جاري کړ، او ويې فرمايل: «ای الله ! زه نن هغه لومړنی سړی يم، چې ستا دا حکم مې په داسې حال کې په دنيا کې جاري کړ؛ چې هغه مړ شوی وو».

د «سماعون» معنی ډېر اوريدونکي او غوږ جارايستونکي ده، نو بيا د «ډېرو اورېدلو» اطلاق کله کله په جاسوسی هم کيږي، او کله يې معنی په «زيات قبول کوونکو» هم کيږي لکه «سمع الله لمن حمده» يعنې د اورېدلو معنی قبول کول دی، شيخ الهند «رحمه الله» دلته اوله معنی مراد کړې ده، ليکن ابن جرير «رحمه الله» او نورو محققينو پر دويمې معنی حمل کړې ده.

﴿سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ﴾ يعنې د دروغو او باطلو ډېر منونکي او قبول کوونکي.

﴿سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ﴾ يعنې بل جماعت (چې د خيبر يهودان دي) چې د (بني قريظه) سړي يې ليږلي وو، او هغوی پخپله تاسې ته درنه غلل، د دوی د خبرو زيات منونکي، (او دغه يهودان داسې کسان دي چې) د الله تعالی په احکامو کې تحريف کوي، يا د يو ځای خبرې په بل ځای پورې لګوي، (لکه د «رجم» آيت پټوي، او د هغه په ځای دُرې او مخ تورول ښيي).

يَقُوْلُوْنَ اِنْ اُوْتِيْتُمْ هٰذَا فَخُذُوْهُ وَاِنْ لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوْا

وايي دغه (د خيبر يهوديان خپلو لېږليو شويو ته): که درکړی شي تاسې ته دا (محرّف حکم) نو وايي خلئ ! (او ويې منئ !) او که در نه کړی شو تاسې ته دا (حکم) نو ويرېږئ تاسې (له قبوله د هغه).

تفسير: يعنې که د دُرې وهلو حکم ومومئ، هغه ومنئ ! که نه ! ګواکې دوی غواړي چې د الله تعالی شريعت د خپل هوا او هوس تابع کړي.

وَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ فِتْنَتَهٗ فَلَنْ تَمْلِكَ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا

او هر هغه څوک چې اراده وکړي الله د فتنې (د ګمراه کولو) يې نو له سره به مالک نشې ته (ای محمده !) د ده لپاره له الله نه د هيڅ شي (چې فتنه او هلاک ترې دفعه کړي).

تفسير: هدايت او ضلالت، خير او شر، هر شی بې د الله تعالی له ارادې څخه نشي موجودېدی، دا داسې يو اصل دی، چې انکار يې له تسليم څخه ډېر مشکل دی، فرض يې کړئ ! يو سړی د غلا کولو اراده وکړي، ليکن د الله تعالی اراده دا وي چې هغه غلا ونه کړي، نو که دا سړی په خپله اراده کې بری ومومي نو لازميږي چې (معاذ الله) الله تعالی د ده په مقابل کې عاجز شو، او که د الله تعالی اراده د بنده پر ارادې غالبه شي، نو لازميږي چې په دنيا کې دې هيڅېږي د غلا او د نورو بدو کارونو هيڅ نوم او اثر پاتې نشي ـ او که د الله تعالی د خير او د شر د هيڅ يوه اراده نه کوي، نو له هغه څخه (معاذ الله) د ده تعطل، غفلت او سفاهت لازميږي، «تعالى الله عن كل الشّرور وتقدّس».

خو لنډ ځواب يې دا دی چې د الله تعالی اراده په دوه ډوله ده:

۱ - کَوْنِي او قدري اراده: او هغه دا چې الله تعالی د کوم شي د وجود اراده په تقدير، او ازل کې کړې وه، نو دا کَوْنِي قدري اراده ده، او هغه نه خطا کيږي، بلکه خامخا هغه شی موجوديږي، نو همغه يې په تقدير کې ليکلی وي، ځکه د الله تعالی علم دهغه په تقدير باندې لومړی دی، هغه ته معلومه ده چې کوم معين شخص که خپلې خوښې ته پرېښودل شي، نو هغه به څه کوي، نو په دغه تقديري اراده ثواب او عذاب مرتب نه دی، او نه ورسره د الله تعالی رضا او خوښي شرط ده.

۲ - شرعي او ديني اراده: او هغه دا چې الله تعالی د خپل مخلوق څخه د خير فعل او د شر څخه اجتناب غواړي، او د خير او شر په کولو کې يې هغه ته اختيار ورکړی دی، او په همدې اراده باندې ثواب او عذاب مرتب دی، ځکه ددې ارادې په مقتضی که کوم شی موجوديږي، د الله تعالی خوښ دی، محبت ورسره لري.

او همدې ته په حديث شريف کې اشاره شوې ده چې: «اعملوا فكل ميسّر لما خُلق له» ـ ترجمه: «تاسې نېک عملونه کوئ، ځکه هر چا ته د هغه عمل توفيق ورکول کيږي، چې د کوم لپاره پيدا شوی وي».

حاصل دا چې د معاصيو او ګناهونو واقع کېدو ته د الله جل جلاله دوه قسمه ارادې متوجه دي:

(۱) شرعي اراده، چې له بنده څخه غواړي چې ګناه ونه کړي، نو دلته بنده ته اختيار دی، چې کوي او که نه، که ويې کړي؛ نافرماني شوه، او سزا به ورکوي، او که نه تابعداري شوه ثواب ورکوي.

(۲) کوني اراده: کومه چې الله د خپل قديم علم مطابق ليکلې ده، چې فلانې شخص که خپلې خوښې ته پرېښودل شي، نو دغه ګناه کوي، او هغه يې وربانديې ليکلې ده، خو د ده دا ګناه کول دلته د شرعي ارادې خلاف، او د کوني ارادې سره برابر دي، ځکه په کوني اراده کې مراد نه بدليږي.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَمْ يُرِدِ اللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ ۖ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ ۖ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٤١﴾

دغه (يهودان او منافقان) همغه کسان دي چې اراده نه ده فرمايلې الله (د دې) چې پاک کړي زړونه د دوی (له کفر نـه)، (شته) دوی تـه پـه دنيا کې ذلت (شرمندګي) او شته دوی ته په آخرت کې عذاب ډېر لوی.

تفسير: دا شبهه چې الله جل جلاله پر دې باندې قادر دی؛ چې د دوی هغه ګرد شرارتونه او غلطې چارې جبرا منع کړي، او دوی مجبور وګرځوي، چې هيڅ ضد او سرزُوري ونشي کړی، نو بېشکه زه دا منم چې د الله تعالی د قدرت په مقابل کې دا کوم مشکل کار نه دی، لکه چې په (۱۱) جزء د يونس د سورت په (۹۹) آيت (۱۰) رکوع کې داسې يو آيت لولو: ﴿وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَن فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا﴾.

ليکن د دې دنيا ګرد نظام داسې کښېښود شوی دی، چې بندګان د خير او شر په اکتساب کې مجبور نه دي، او که ټول يواځې د خير په کولو سره مجبور شوي وي، نو د عالم د تخليق حکمتونه او مصالح به نه پوره کېدل، او د حق تعالى ډېر صفات به نه راڅرګندېدل، مثلا د عفو، غفور، حليم، منتقم، ذو البطش، الشديد، قائم بالقسط، مالك يوم الدين او د نورو په مناظرو به نه پوهيدو، حال دا چې د دې عالَم د پيدا کېدو اصلي غرض او غايه دا ده چې د الله تعالى صحيح بندګي او عبادت وشي، او د هغه د ګردو (ټولو) کمالیه وو صفاتو مظاهره وشي، هر هغه مذهب يا انسان چې الله تعالى فاعل مختار ګڼي، د خپلې دې دعوى په پاى (آخر) کې پرته له دې غرض څخه بل شى نشي ښوولى، ﴿لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا﴾ (۲۹ جزء د الملك سورت (۲) آيت (۱) رکوع) له دى نه د زيات تفصيل ځاى دلته نشته، بلکه دومره ليکل هم ځمونږ له موضوع څخې زيات دي.

سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ اَكّٰلُوْنَ لِلسُّحْتِ ؕ فَاِنْ جَآءُوْكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ اَوْ اَعْرِضْ عَنْهُمْ ۚ

(دوى) ډېر اوريدونکي (منونکي دي) لپاره د دروغ ويلو، ډېر خوړونکي دي د حرامو، نو که راغلل دوى تاته؛ نو حکم (پرېکړه) وکړه په منځ د دوى کې يا مخ وګرځوه له دوى نه.

تفسير: له ابن عباس، مجاهد، عکرمه او نورو اکابرو سلفو رضي الله عنهم څخه منقول دي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دا اختيار په ابتداء کې ووه، په آخر کې کله چې د اسلام تسلط او نفوذ کامل شو، نو داسې ارشاد وشو: ﴿وَاَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ «يعنې د دوى د منازعو فيصلې د شريعت له حکم سره سمې وکړه !» مطلب دا چې د اعراض او ځان په ځنګ کولو څه ضرورت نه دى پاتې.

وَاِنْ تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَنْ يَّضُرُّوْكَ شَيْـًٔا ؕ وَاِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝۴۲

او که مخ وګرځوې له دوى نه (او حکم ونه کړې) نو له سره به ضرر ونه رسوي دوى تاته د هيڅ شي، او که حکم (پرېکړه) دې کوله؛ نو حکم (پرېکړه) وکړه په منځ د دوى کې په عدل (انصاف) سره، بېشکه الله دوست ګڼي عدل کوونکي (په حکم کې).

وَكَيْفَ يُحَكِّمُوْنَكَ وَعِنْدَهُمُ التَّوْرٰىةُ فِيْهَا حُكْمُ اللّٰهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ وَمَآ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ۝۴۳

او څرنګه به حکم (منصف) وګرځوي دوى تا (اى محمده !) حال دا چې له دوى سره تورات دى چې (شته) په هغه کې حکم د الله، بيا ګرځي دوى (له هغه حکم سترا څخه) پس له هغه (چې دوى ته حَکَم وګرځولې)، او نه دي دغه کسان له سره باور کوونکي (نه په تا او نه په کتاب خپل).

تفسير: يعنې يهودان د هغه «تورات» په فيصله چې آسماني کتاب يې ګڼي؛ نه راضي کېږي، نو په حقيقت کې دوى پر هيڅ يو کتاب باندې ايمان نه لري، نه پر قرآنکريم، نه پر «تورات» باندې.

پخوانى رکوع کې يې د «تورات» او د «انجيل» مدح وفرمايله، او تنبيه يې راکړه چې دغو نالائقانو د داسې عمده کتاب (چې په کې ډېر علوم او هدايات وو) قدر ونه کړ، او داسې يې ضايع کړ، چې نن د اصلي شي پته لګول هم په کې مشکل شوي دي.

إِنَّآ أَنزَلْنَا ٱلتَّوْرَىٰةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ

بېشكه مونږ نازل كړى (لېږلى) مو دى تورات (چې شته) په هغه كې هدايت (لار ښوونه حق ته) او رڼا (چې شرعي احكام پرې منكشف كيږي).

تفسير: يعني د وصول الى الله طالبانو ته هدايت ـ او د هغو كسانو لپاره چې د شبهاتو او مشكلاتو په تيارو كې بند پاتې دي؛ د رڼا كار وركوي.

يَحْكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسْلَمُوا۟ لِلَّذِينَ هَادُوا۟ وَٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ

حكم به كاوه په هغه سره انبياوو (د بني اسرائيلو) هغو چې حكم منونكي وو دوى (د الله) هغو كسانو ته چې يهوديان وو، او (حكم به كاوه پرې) رباني عارفانو او عالمانو (د دوى).

تفسير: يعني په «تورات» كې داسې عظيم الشأن دستور العمل وو؛ چې ډېرو انبياوو، اهل الله وو او علماوو به د هغه له هدايتونو سره سم حكمونه صادرول، او د منازعو او جګړو پرېكړې به يې په هغو سره كولې.

بِمَا ٱسْتُحْفِظُوا۟ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُوا۟ عَلَيْهِ شُهَدَآءَ

په سبب د هغه شي چې طلب د حفاظت يې شوى وو له دوى څخه چې كتاب د الله دى (يا) د دې لپاره چې دوى ساتونكي درولى شوي وو پر كتاب د الله باندې، او وو دوى په هغه باندې شاهدان (په حقانيت يې يا ساتونكي له تبديله).

تفسير: يعني دوى د «تورات» د ساتنې ذمه واران ګرځولى شوي وو، او ځمونږ د قرآنكريم په شان د ﴿وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ﴾ وعده له هغه سره نه وه شوې ـ نو تر هغې پورې چې علماوو، احبارو، او نورو د خپلو ذمه واريو احساس كاوه؛ «تورات» محفوظ او معمول به وو، آخر د دنيا خوښوونكو بدو علماوو په لاسونو تحريف او ضايع شو.

فَلَا تَخْشَوُا۟ ٱلنَّاسَ وَٱخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِى ثَمَنًا قَلِيلًا

نو مه ويرږئ تاسې له خلقو نه (په اظهار او اجراء د حق كې) او وويرږئ له ما (په پټولو د حق كې) او مه پېرئ (مه اخلئ) تاسې په آيتونو ځما قيمت لږ (چې هغه رشوت او جاه دى).

تفسير: يعني د خلقو له خوفه يا د دنيوي طمعې له امله (وجې) په آسماني كتاب كې تبديل او تحريف مه كوئ ! او د هغه احكام او اخبار مه پټوئ ! او د الله تعالى له تعذيبه او انتقامه ووېرږئ ! د «تورات» د عظمت شان او مقبوليت له څرګندولو څخه وروسته دا خطاب يا خو د يهودانو هغو رئيسانو او عالمانو ته كړى شوى دى، چې د قرآنكريم د نزول په وخت كې وو، ځكه چې هم دوى د (رجم) له آيت څخه انكار كړى وو، او د نبي كريم «عليه أفضل الصلاة والتسليم» په نسبت پخوا ويل يې پټ كړي وو، او د هغه په معناګانو كې يې عجيب قسم تحريف او تبديل او وړاندې وروسته والى كړى وو، يا په دې منځ كې امت مسلمه ته نصيحت دى، چې تاسې د نورو اقوامو په شان په هيڅ وجه له هيڅا څخه مه ويرږئ ! يا د مال او جاه په محبت كې په دغه اندازه مه اخته كېږئ !؛ چې آسماني كتاب ضايع كړئ، لكه چې لله الحمد دغه محمدي امت د خپل لوى قرآن يو توری هم نه دى لږ كړى، او نه يې ورك كړى، او تر نن پورې د پاك قرآن مطالب له هر راز تغيير او تحريف څخه محفوظ او مصون دي، او تل به په دې مقصد لكه نن او پرون بريالي او كامياب وي، او د مبطلينو او محرفينو هر راز زيار (محنت) او كوښښ به په دغه مورد كې بې اثره او ناكامه ثابتيږي.

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٤٤﴾

او هر چا چې ونه کړ حکم په هغه شي چې نازل کړی (لېږلی) دی الله؛ نو دغه کسان هم دوی دي کافران.

تفسير: د ﴿مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ سره سم له حکم نه کولو ځنې غالبا دا مراد دی، چې د منصوصو حکمونو له وجوده انکار وکړي، او د هغه په ځای نور احکام په خپله رایه او غو ښتنه سره منځ ته راوړي، لکه چې یهودانو د (رجم) د حکم په نسبت همداسې کړي وو، نو د داسې خلقو په کفر کې هیڅ شبهه نشته، او که داسې مراد وي، چې ﴿مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ عقیدتاً مني، او پر خلاف د هغه عملا فیصله کوي، نو له کافر ځنې به عملي کافر مراد وي، یعنې د هغه عملي حالت د کافرانو په شان دی.

وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَآ اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ ۙ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْاَنْفَ بِالْاَنْفِ وَالْاُذُنَ بِالْاُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ ۙ وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ ؕ

او لیکلي (فرض کړي) وو مونږ پر دغو (یهودانو) په دې (تورات) کې چې ښکه نفس دې ووژلی شي په (بدل د بل) نفس کې، او سترګه دې (ړنده شي) په (بدل د بلې) سترګې کې، او پوزه دې (پرېکړه شي) په (بدل د بلې) پوزې، او غوږ دې (پرېکړی شي) په (بدل د بل) غوږ، او غاښ دې (وویستلی شي) په (بدل د بل) غاښ کې، او پرهارونه قصاص (بدل) دي برابر.

تفسير: د قصاص دا حکم په موسوي شریعت کې وو، او د اصولو ډېرو علماوو تصریح کړېده، چې هغه پخواني شرائع چې ځمونږ قرآنکریم یا ځمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه نقل کړي دي، په دې شرط چې د هغو په نسبت رسول الله مبارک کوم انکار یا ترمیم نه وي فرمایلی؛ د دې امت په حق کې هم تسلیم دي، ګواکې بې له رده او له انکار د هغه اورول د تلقي بالقبول دلیل دی.

فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ ؕ

نو هر چا چې عفوه وکړه د دې قصاص نو دغه عفوه کفاره ده ده ته (یعنې دی په دغې عفوې سره له ګناه پاکیږي).

تفسير: یعنې د جروحو او زخمونو د قصاص معافول د مجروح د ګناهونو کفاره ګرځي، لکه چې په ځینو احادیثو کې د دې خبرې تصریح شوې ده، او ځینو مفسرینو دا آیت د جارح په حق کې ګڼلی دی، یعنې که مجروح جارح ته معافي وکړي، نو د جارح ګناه معافیږي، و الراجح هو الأول.

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٤٥﴾

او هر چا چې ونه کړ حکم په هغه شي چې نازل کړی (لیږلی دی) الله؛ نو دغه کسان هم دوی دي ظالمان.

تفسير: یهودانو د قصاص له حکم ځخه هم مخالفت وکړ، په دوی کې «بني نضیر» چې ډېر معزز او قوي ګڼل کېده؛ له «بني قُریظه» ځخه یې پوره دیت حصولاوه، او کله چې د دوی د تأدیې نوبت راته؛ نو نیمایي دیت به یې ادا کاوه، ځکه چې «بني قُریظه» د کمزوری له امله (وجې) له دوی سره همداسې معاهده ترلې وه.

اتفاقا د «بني قُريظه» له خوا د «بني نضير» سړی ووژل شو، دوی د خپل پخواني دستور سره سم خپل پوره ديت وغوښت، «بني قريظه» د دوی په ځواب کې وويل: «ځئ ! هغه زمانه تېره شوه، چې مونږ ستاسې د زور او قوت په سبب مجبور شوي وو، او دغه ظلم مو په غاړه اخيستی وو، اوس محمد صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم مدينې منورې ته تشريف راوړی دی، او د ده مبارکه دوره ده، او دا امکان نه لري؛ چې مونږ د هغه ديت په مقابل کې چې له تاسې ځنې يې اخلو دوه چنده يې تاسې ته درکړو»، د دې وينا غرض او غايه دا وه، چې اوس د محمد رسول الله صلى الله عليه وآله وصحبه وسلم په موجوديت کې محال دی، چې کوم قوي يو ضعيف لتاړ (چيت) او تر پښو لاندې کړي، يا يې وځېښي، ځکه چې په دې خبره باندې دګردو باور وو؛ چې محمد عليه السلام د هر ضعيف او قوي سره يو شان عدل او انصاف فرمايي، او د اقوياوو د ظلم او تيري په مقابل کې د ضعفاوو مرستې او لاس نيوی کوي.

د دې معاملې پای او انجام داسې شو، چې دوی ګرد سره محمدي دربار او عدليې ته وروړاندې شول، او د «بني قُريظه» هغه خيال چې د هغه عدل او انصاف د مظهر په نسبت يې کړی وو؛ کټ مټ (هوبهو) درست او صحي وخوت.

د قصاص له حکم څخه وروسته ﴿وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ الآية ـ له فرمايلو څخه د دې واقعې په لوري اشاره ده، او څرنګه چې يې د «رجم» په شان د «قصاص» د حکم له مشروعيت څخه صريحا انکار نه وو کړی، بلکه وروسته له مفاهمې او مشاورې به يې د شرعي حکم په خلاف يو حکم قائموه، نو دا د عدل له قانون څخه اعتقادي مخالفت نه بلکه عملي مخالفت وو، نو ځکه يې د «کافرون» په ځای «ظالمون» وفرمايل، يعنې دا صريح ظلم دی، چې له قوي څخه کم او له ضعيف څخه زيات ديت واخيستل شي.

وَقَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَارِهِم بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ ۙ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٦﴾

او ولېږه مونږ وروسته له دغو انبياوو (يا پر پلو د دوی) عيسی ځوی د مريمې (يعنې چې د هغوی د پښو پر منلو، دی هم رهبې «روان» وو) حال دا چې مصدق (رښتيا ګڼونکی) وو د هغه کتاب چې پخوا له ده وو له تورات (چې هغه هم حق سماوي کتاب دی) او ورکړی وو مونږ ده (عيسی) ته انجيل (حال دا) چې په هغه کې هدايت وو (حق ته) او نور (رڼا) وه (بيان وو د شرعي احکامو)، او حال دا چې مصدّق (موافق) وو د هغه کتاب چې پخوا وو د ده نه له تورات څخه او هدايت (لار ښوونکی) وو او موعظه (پند) وو لپاره د پرهېزګارانو.

تفسير: يعنې عيسی عليه السلام په خپله ژبه د «تورات» تصديق وفرمايه، او هغه کتاب «انجيل» چې هغوی ته ورکړی شوی وو؛ هغه هم د «تورات» مصدق دی، او د «انجيل» نوعيت هم په رڼا او هدايت او لارښوونه کې د «تورات» په شان وو، د احکامو او شرائعو په اعتبار هم د دې دواړو په منځ کې لږ څه فرق وو، لکه چې ﴿وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ ٱلَّذِى حُرِّمَ عَلَيْكُمْ﴾ کې اشاره ده، او دا فرق د «تورات» له تصديق سره څه منافات نه لري، لکه چې نن مونږ عظيم الشأن قرآن منو، او يواځې د هغه د احکامو په تسليمولو سره لله الحمد د ګردو سماوي کتابونو تصديق هم کوو؛ چې د الله تعالى له جانبه دي.

وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ ٱلْإِنجِيلِ بِمَآ أَنزَلَ ٱللّٰهُ فِيهِ ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللّٰهُ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٤٧﴾

او (فرمايلي وو الله) حکم دې وکړي اهل (عالمان) د انجيل په هغه شي چې نازل کړی (لېږلی) دی الله په هغه (انجيل) کې، او هر چا چې ونه کړ حکم په هغه شي چې نازل کړی دی الله؛ نو دغه کسان هم دوی دي فاسقان.

تفسير: يا خو دا حكم هغو نصرانيانو ته چې د انجيل د نزول په وخت کې موجود وو؛ ورکړی شوی وو، چې د هغه نقل دلته فرمايي، او کيږي چې هغو نصرانيانو ته به چې د قرآن عظيم د نزول په وخت کې مخاطب وو؛ ويلی شوی وي، هر هغه څه چې الله تعالی په «انجيل» کې نازل کړي دي، سم له هغه سره دې عادلانه حکم وکړي ! يعنې د هغو پخوا ويلو په پټولو يا په لغوو او مهملو تأويلاتو او بدلولو سره دې کوښښ نه کوي ! چې په «انجيل» کې د آخر الزمان او مقدس رسول صلی الله عليه وسلم «فارقليط» په نسبت د مسيح عليه السلام له ژبې ويلي شوي دي، دا به د الله تعالی سخته نافرماني وي، چې د هغه جليل هادي او لوی مصلح په نسبت چې مسيح عليه السلام داسې فرمايلي دي: «کله چې هغه حق روح راشي، نو تاسې ته به رښتينې ګردې لارې دروښيي»، نو تاسې د هغه تکذيب ته ملاوې مه ټرئ ! او ابدي خُسران مه قبلوئ، آيا د مسيح عليه السلام او د هغه د الله جل جلاله د حکم منلو معنی هم دا ده؟ (له سره نه ده ! او ځينې مفسرين وايي چې: دغه امر د «انجيل» له نسخې څخه پخوا وو).

وَأَنْزَلْنَآ إِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ

او نازل کړی (لېږلی) دی مونږ تاته (ای محمده !) کتاب (قرآن) په حقه سره چې مصدّق (حق ګڼونکی) دی د هغه چې (نازل شوی دی) مخکی له ده نه له کتابونو څخه او ساتونکی دی پر (مضامينو د) هغه (يعنې شاهد دی په حقانيت د جنس د هغه کتاب).

تفسير: د «مهيمن» معنی داسې بيان کړی شوې ده: أمين، غالب، حاکم، محافظ او ساتونکی، او د هرې معنی په اعتبار چې وي، د قرآنکريم «مهيمن» توب د سابقه وو کتابونو لپاره صحيح دی، د الله تعالی هغه امانت چې په تورات، انجيل او نورو آسماني کتابونو کې په وديعت ايښی شوی وو؛ هغه له زوائدو سره په قرآن کې محفوظ دی، چې په هغه کې هيڅ خيانت نه دی شوی، او هغه ځنې فرعي شيان چې په هغو کتابونو کې په هغې زمانې يا د هغو مخصوصو مخاطبينو لپاره حسب الحال وو؛ هغه د پاک قرآن له خوا منسوخ شو، او د هغو د ناتمامو حقائقو تکميل يې وفرمايه، او له هغې برخې څخه يې چې د دې زمانې په اعتبار غير مهم ووو؛ منصرف شو.

فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ

نو حکم کوه (ای محمده !) په منځ د دغو (کتابيانو هم که تاته راغلل) په هغه وحی چې لېږلی دی الله (تاته).

تفسير: د يهودانو په منځ کې څه جګړه سره پېښه شوې وه، يوه ډله يې (چې په هغې کې لوی لوی مشهور علماء او مقتديان شامل وو) د محمد صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضره شوه، او د هغې جګړې فيصله يې وغوښته، او دا يې هم وويل چې: تاسې ته ښکاره ده، چې ګرد يهوان ځمونږ په واک او اختيار کې دي، که تاسې خپله فيصله سم ځمونږ له غوښتنې سره وکړه؛ نو مونږ ګرد مسلمانيږو، رسول أکرم صلی الله عليه وسلم دا رشوتي اسلام ونه مانه، او د دوی له دغې غوښتنې څخه يې صاف انکار وفرمايه، نو په دې مناسبت (او د دې نظريې په تأييد) دا آيت نازل شو (ابن کثير).

وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ

او مه کوه متابعت د خواهشاتو د دوی (او مه اوړه) له هغه شي څخه چې راغلی دی تاته له حق څخه.

تفسير: هغه کسان چې دا راز آيتونه د نبي صلى الله عليه وسلم د عصمت له شان څخه مخالف تصور کوي؛ ډېر ناپوه او قاصر الفهم دي:

۱ - له يوه شي څخه د چا منع کېدل د دې خبرې دليل نشي کېدی، چې د هغه شي مرتکب کېدل غواړي چې ورڅخه منع شوی وی.

۲ - د انبياوو «عليهم الصلاة و السلام» له معصوميت څخه مطلب دا دی، چې له دوی څخه د الله تعالى معصيت نه صادريږي، يعنې هر کار باندې چې وپوهيږي هغه د الله جل جلاله خوښ نه دی؛ هغه نه کوي، او که اتفاقا کوم وخت په هېره او خطا يا د رايې او اجتهاد په غلطی سره د راجح او افضل په ځای مرجوح او مفضول اختيار کړي، يا غير مرضي؛ مرضي وګڼي، او پرې عمل وکړي، چې هغه ته اصطلاحا (زلت «لغزش او ښويدنه» وايي)، نو داسې واقعات د عصمت له مسئلې سره منافي نه دي، لکه چې د آدم عليه السلام او دځينو نورو انبياوو «عليهم الصلاة و السلام» واقعات د دې قضيې شاهد دي، د دې حقيقت له پوهېدلو څخه وروسته د ﴿وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ عَمَّا جَاءَكَ مِنَ الْحَقِّ﴾ او ﴿وَاحْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ﴾ او د دې په شان د نورو آيتونو د مطلب په پوهېدلو کې هيڅ قسم تردد او اندېښنه نه پاتې کيږي.

لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا

هر چا ته مقرر کړی مونږ له تاسې (ای امتونو !) يو شريعت (اصول) او لاره روښانه.

تفسير: يعنې الله تعالى د هر أمت لپاره د دوی له احوالو او استعدادونو سره مناسب او جلا دستور او دکار طريقه مقرره کړېده، او سره له دې ګرد انبياء او ملل په هغو ديني آسماني اصولو او کلي مقاصدو کې چې پرې د ابدي نجات مدار دی؛ يو له بل سره متحد او يو د بل مصدّق دي.

وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَكِنْ لِيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ

او که اراده فرمايلې واى الله نو خامخا به يې ګرځولي وئ تاسې امت يو (متفق په يو دين)، او مګر (يې بېل بېل کړئ) ددی لپاره چې وازمويي تاسې په هغه کې چې تاسې ته يې درکړی دی (له مختلفو شرائعو چې مطيع او عاصي سره بېل کړي).

فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ

پس وړاندې شئ تاسې يو تر بله نېکيو ته (او د فضائلو په اکتساب او له رذائلو څخه په اجتناب کې تلوار کوئ !).

تفسير: يعنې د شرائعو د اختلاف له ليدلو څخه په قيل او قال، جنګ او جنجال او کږو بحثونو کې مه لوېږئ ! او وخت مه ضايع کوئ ! او د وصول الى الله د اراده کوونکو عملي ژوندون د تعقيب لپاره منډې ووهئ ! او د هغه عقائدو او اعمالو د محاسنو او د ښېګڼو (فائدو) په اخيستلو کې چالاکي ښکاره کړئ ! چې د آسماني شريعت له خوا تاسې ته درورانديږي کړی شوي دي.

إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿۴۸﴾

(خاص) طرف د الله ته بېرته ورتله دي ستاسې د ټولو، نو خبر به کړي تاسې (په قيامت کې) په هغه (امر د دين) چې وئ تاسې چې په هغه کې به مو اختلاف کاوه.

وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ

او (ته لېږلی يې مونږ او دغه حکم مو فرمايلی دی تاته) چې حکم کوه ! په منځ د دوی کې په هغه شي چې نازل کړی (لېږلی) دی الله، او مه کوه متابعت د خواهشاتو د دوی، او ويره کوه ! (ځان ساته) له دوی نه، چې وا (نه) اړوي (ونه ګرځوي) تا له ځينې هغه شي څخه چې نازل کړی (لېږلی) دی الله تاته (ای محمده !).

تفسير: يعنې يو تر بله په اختلافاتو کې که څه هم ټوله دنيا سره لاس او ګريوان وي، خو تاسې ته هم دا حکم دی چې سم له ﴿مَا أَنْزَلَ اللَّهُ﴾ سره حکم وکړئ ! او د هيڅا د ويلو او د اورولو هيڅ پروا مه کوئ.

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُصِيبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ

نو که وګرځېدل دوی (له نازل شوو حکمونو) پس پوه شه (ته ای محمده !) چې بېشکه هم دا خبره ده چې اراده لري الله چې ورسوي دوی ته (سزا په دنيا کې) په سبب د ځينو ګناهونو د دوی.

تفسير: پوره سزا به په قيامت کې مومي، ليکن لږ څه سزا دلته په دنيا کې هم مجرم ته ورکوله کيږي، تر څو نورو ليدونکو ته هم له هغې ځنې يو قسم تنبيه ورحاصله شي.

وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ لَفَاسِقُونَ ﴿۴۹﴾

او بېشکه ډېر له خلقو څخه خامخا فاسقان دي (د الله د اطاعت څخه متمردين دي).

تفسير: يعنې تاسې د خلقو د اعراض او انحراف ځنې ډېر مه خپه کيږئ، په دنيا کې تل فرمانبردار بندګان لږ وي: ﴿وَمَا أَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ﴾ (۱۳ جزء د يوسف سورت (۱۱) رکوع (۱۰۳) آيت).

أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿۵۰﴾

آيا پس حکم د جاهليت غواړي دوی؟ (او د الله له حکمونو څنګ کوي) او څوک ډېر ښه دي له الله څخه له جهته د حکم هغه قوم ته چې يقين لري (په الله يعنې هيڅوک نه دي).

تفسير: يعنې هغه کسان چې د الله تعالی په مالکيت او شاهنشاهی او کامل رحمت او محيط علم باندې کامل يقين لري؛ د دوی په نزد په دنيا کې د هيڅا حکم د الله تعالی د حکم په مقابل کې د التفات وړ نشي کېدی، نو بيا ولې دا خلق د الله تعالی د احکامو د رښا له راتللو څخه وروسته د ظنونو، اهواؤو، آراؤو، کفر، او جاهليت د تيارو په لوري تلل خوښوي؟.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاءَ

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو) مه نيسئ تاسې يهوديان او نصرانيان دوستان ! (چې له دوی سره موالات او مودت وکړئ !).

تفسير: «أولياء» د ولي جمع ده، «ولي» دوست ته هم وايي، د «قريب، ناصر، مددګار» په معنى هم راځي، مقصد دا دى چې مسلمانان له يهودو او نصاراوو بلكه له ځردو كفارو سره (لكه چې په (۵) جزء د النساء سورت په (۲۱) ركوع (۱۴۴) آيت كې تصريح شوې وه چې مسلمانان دې له كفارو سره) دوستانه تعلقات نه قائموي، په دغه موقع كې دې دا ملحوظ وي، چې موالات، مروءت، حسن سلوك، مصالحت، رواداري، عدل او انصاف دا ځرد شيان سره بېل بېل دي، د اسلام اهل كه مصلحت وګوري، نو له هر كافر سره مشروع صلح، عهد او پيمان ترلى شي: ﴿وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ﴾ (۱۰ جزء د أنفال سورت ۸ ركوع، ۶۱ آيت).

د عدل او انصاف حكم لكه چې له تېرو آيتونو څخه معلوم شوى دى، د مسلم او كافر بلكه د بشر د هر فرد په حق كې لازم دى، دمروءت، حسن سلوك او د رواداري معامله له هغو كفارو سره كېدى شي، چې د اسلامي جماعت په مقابل كې د عناد او دښمنى مظاهره ونه كړي، لكه چې د «الممتحنه» په سورت كې په همدې خبره تصريح شوې ده، پاتې شو «موالات» يعنې دوستانه، اعتماد، او يو له بل سره د وروړګلوى مرسته، مدد، او معاونت؛ نو هيڅ يو مسلمان حق نه لري، چې دغسې تعلقات له كوم غير مسلم سره قائم كړي، ـ هو ! د صوري موالاتو چې تر ﴿إِلَّا أَنْ تَتَّقُوا مِنْهُمْ تُقَاةً﴾ لاندې داخل دي، او عمومي تعاون اجازه شته، چې تر څې د اسلام او مسلمانانو په وضعيت او طرز عمل كوم خراب اثر نه لويږي، له ځينو راشدو خليفګانو څخه چې په دې مورد كې فوق العاده تشديد او تضييق منقول دى؛ هغه دې محض په سد ذرائع او مزيد احتياط مبني وګڼل شي !.

بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ

(دوى يو تر بله) ځينې دوستان دي د ځينو نورو (ځكه چې ټول سره په كفر كې شريك دي او ځرد سره تاسې ته متفق دي).

وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ

او هر چا چې دوستي وكړه له دوى سره له تاسې ځنې؛ نو بېشكه چې دى له همدوى ځنې دى (نو مؤمنان دې ځان وساتي له دوستى د كفارو).

تفسير: يعنې د هم دوى په ډله كې شامل دي، دا آيتونه د رئيس المنافقين «عبد الله بن أبَيّ» باره كې نازل شوي دي، د ده تعلقات له يهودانو سره زيات دوستانه وو، د ده داسې ګمان وو، كه پر مسلمانانو باندې كومه پېښه يا ربړ (تكليف) واقع شي، او محمدي جماعت مغلوب شي، نو له يهودانو سره به ځمونږ دا دوستي په ښه راشي، د همدې واقعې په لوري په پخواني آيت كې اشاره وشوه.

نو في الحقيقت له يهودانو سره د منافقانو د موالات اصلي منشأ همدا وه، چې يهودان د اسلامي جماعت مقابل او د اسلامي مذهب ډېر بد دښمنان وو، ظاهره ده: هر هغه څوك چې له يهودو او نصاراوو يا له كفارو يا له بل كوم مشرك جماعت سره په دې نيت او حيثيت موالات وكړي، چې هغه د اسلام دښمنان وي؛ نو د هغه په كفر كې هيڅ شبهه نشته، په منافقانو كې ځينې نور كسان هم وو، چې هغوى په «أحد» كې كله چې دجنګ وضعيت بدل شو، او د حرب فضاء يې مكدره او خړه پړه وليده، داسې ويناوې يې كولې، چې اوس به مونږ له فلاني يهودي او فلاني نصراني سره دوستي او ملګرتيا كوو، او كه ضرورت پېښ شو، د هغو په دين كې به هم داخليږو، نو د دا رنګ خلقو په نسبت هم د ﴿وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ﴾ ظاهري مدلول علانيه صادقيږي.

پاتې شول هغه مسلمانان چې له داسې نيت او منشأ څخه پاک وي، او له يهودانو يا نصرانيانو سره خپل دوستانه تعلقات قائموي، نو د دوی په نسبت هم قوي خطره موجوده ده، چې دوی دکفارو له ډېرې ناستې ولاړې او اختلاط نه متأثر کيږي، او ورو ورو به د دوی مذهب اختياروي، يا لږ تر لږه د کفر له شرکيه شعائرو او رسومو څخه دوی ته کراهت او نفرت نه پاتې کيږي، نو په دې اعتبار د ﴿فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ﴾ اطلاق پر دوی باندې هم کېدی شي، لکه چې د (المرء مع من أحب) حديث د همدې مضمون په لوري اشاره کوي.

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥١﴾

بېشکه الله هدايت نه کوي قوم ظالمانو ته (چې ظلم کوي په ځانونو خپلو په دوستۍ کولو د کفارو سره).

فَتَرَى ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَٰرِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ ۚ

نو وبه وينې ته هغه کسان چې په زړونو د دوی کې مرض (رنځ د نفاق) دی؛ چې ځغلي به په (دوستۍ د) دوی کې، وايي به دوی (په عذر کې چې): ويرېږو له دې نه چې وبه رسيږي مونږ ته کومه حادثه.

تفسير: دا همغه کسان دي چې د دوی په زړونو کې د شک او نفاق مرض دی، او د الله تعالى پر وعدو باندې اعتماد او د مسلمانانو پر حقانيت يقين نه لري، نو ځکه په منډو منډو ځي، او د کافرانو په غېږو کې پناه نيسي، تر څو د موهومې غلبې په وخت کې د فتحې له ثمراتو ځنې متمتع شي، او د دوی په زعم کې له هغو آفاتو او ګردشونو څخه چې پر اسلامي جماعت راتلونکي دي؛ محفوظ پاتې شي.

د ﴿نَخْشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ﴾ معنى همدا ده، چې د دوی په زړونو کې مکنونه وه، ليکن همدا د ﴿نَخْشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ﴾ الفاظ کله چې د محمد صلى الله عليه وسلم او مخلصو مسلمانانو په مخ کې له يهودانو سره د دوستانه تعلقاتو لرلو لپاره ويل، نو د زمانې د ګردش مطلب به يې معذرتاً داسې ظاهراوه، چې يهودان ځمونږ بيپاريان او معامله داران دي، مونږ له دوی څخه قرض او پور آخلو، که مصيبت يا قحط يا بله کومه پېښه راشي؛ نو دوی د همدې دوستانه تعلقاتو له امله (وجې) ځمونږ په ښه او کار راځي، او د اړتيا (احتياج) په وخت کې ځمونږ لاس نيسي»، د همدې خيالاتو ځواب وروسته له دې ورکاوه کيږي.

فَعَسَى ٱللَّهُ أَن يَأْتِىَ بِٱلْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِۦ فَيُصْبِحُوا۟ عَلَىٰ مَآ أَسَرُّوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِمْ نَٰدِمِينَ ﴿٥٢﴾

نو نژدې ده چې الله به راولى برى او فتح (د رسول خپل په تقويت د اسلام سره) يا (به راوړي بل) يو حکم له خپل جانبه (په اظهار د حال د منافقينو)؛ نو وبه ګرځي دوی په هغه شي چې پټ کړی دی دوی په نفسونو خپلو کې (له شک او دوستۍ د کفارو) پښېمانه.

تفسير: يعنې هغه وخت نژدې دی چې الله تعالى خپل نبي صلى الله عليه وسلم ته قاطعه فتوحات او څرګند برى عطا کړي، او مکې معظمې ته چې د ګردو عربو يو منلى شوى مرکز وو، په فاتحانه صورت سره ننوځي، يا ما سوا له دې په خپل قدرت او حکم سره څه نور امور ور د مخه کړي؛ چې د هغو امورو له ليدلو څخه د منافقانو دا ګرد باطل توقعات خاتمه وموميږي، او دوی ته دا ورڅرګند شي، چې د اسلام له دښمنانو سره د موالاتو او دوستۍ نتيجه بې له دنيوي ذلت او رسوايۍ او اخروي دردناک عذاب څخه بل هيڅ شى نشته، کله چې د فضيحت او خُسران دا نتائج ورپېښ شي، نو هلته به بې له افسوسه او ارمانه بل هيڅ شى په لاس نه ورځي.

وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا أَهَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَأَصْبَحُوا خَاسِرِينَ ﴿٥٣﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٥٤﴾

او وايي به هغه کسان چې مؤمنان دي (له تعجبه) آيا دا همغه کسان دي چې قسمونه کول دوی په الله سخت قسمونه خپل چې بېشکه دوی خامخا له تاسې سره دي (په دېن کې، نو فرمايي الله): باطل شول عملونه د دوی؛ نو وګرځېدل دوی زيانکاران. ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) هر څوک چې مرتد شو (وګرځېد) له تاسې نه له دين خپل څخه؛ نو عنقريب به راولي الله داسې يو قوم چې محبت کوي (الله) له هغوی سره، او محبت کوي دوی له الله سره، متواضع او مهربان به وي پر مؤمنانو، غالب زبردست به وي پر کافرانو باندې، جهاد به کوي دوی په لاره د الله کې (لپاره د ترقی د دين) او نه به ويريږي دوی له ملامتيا د هيڅ ملامت کوونکي، دا (مذکوره صفات) فضل د الله دی، ورکوي يې هغه چا ته چې اراده وکړي، او الله پراخ دی (فضل، رحمت، احسان د ده) ښه عالم (خبردار په ټولو احوالو).

تفسير: د انسان لوی سعادت او بری او د الله جل جلاله فضل دا دی چې دی په خپله د فتنې په وخت کې د حق پر لاره ثابت قدم پاتې شي، او په دې فکر کې وي، چې نور مؤمنان هم له هلاکته وژغوري (وساتي)، هغو بندګانو ته چې د پاک الله اراده وي، له دې اعلی سعادت او لوی فضل ځنې وافره برخه ورکوي، د ده فضل غير محدود دی، او هغه عليم او خبير ذات ته ښه معلوم دي، چې کوم يو بنده د هغه اهل او مستحق دی.

تنبيه: د رسول الله صلی الله عليه وسلم د وفات په تقريب کې د دې آيت د دغې پخوا وينا په تصديق د عربو درې طائفې مرتدې شوې:

١ - بني أسد (د طليحة بن خويلد) قوم چې د پيغمبری دعوی يې کړې وه، او خالد بن وليد رضي الله تعالى عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم له جانبه د دوی په جهاد مأمور شو، چې طليحه ترې شام ته وتښتېد، او بيا يې اسلام راوړ.

٢ - بني مُدلج د يمني (الأسود العَنْسي) قوم چې ده هم د پيغمبری دعوه کړې وه، او پر تمام (يمن) متصرف شو، بيا د نجاشي د خوريي (فيروز الديلمي) په لاس د رسول الله صلی الله عليه وسلم د وفات په شپه کې ووژلی شو.

٣ - بني حنيفه د (مُسيلمة الكذاب) قوم چې ده هم د پيغمبری دعوه کړې وه، بيا دې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له وفاته وروسته د (صديق أكبر) په خلافت کې د وحشيّ بن حرب (د أمير حمزه رضي الله تعالى عنه د قاتل) په غشي او د (عبد الله بن زيد الأنصاري) په تورې ووژلی شو، او د صديق أكبر رضي الله تعالى عنه په عهد کې (٧) طائفې نورې هم مرتدې شوې:

(١) فزاره. (٢) کينده. (٣) غطفان. (٤) بنو بکره. (٥) بنو يربوع. (٦) بنو سُليم. (٧) د بنو تميم ځينې سړي، او د عمر فاروق رضي الله تعالى عنه په عهد کې غسّان د (جبلة بن الأيهم) قوم نصرانيان شول، او (شام) ته وتښتېدل.

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ ﴿۵۵﴾

بېشكه همدا خبره ده چې دوست ستاسې (خاص) الله او رسول د ده دی، او هغه کسان چې مؤمنان دي، (مؤمنان) هغه کسان دي چې قائموي (سم ادا کوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ (يا) (صفت کوو د) هغو کسانو چې قائموي (سم ادا کوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ، او ورکوي دوی زکات، او هم دوی رکوع (عاجزي) کوونکي دي (په لمونځ او زکات خپل کې) (يا) او ورکوي دوی زکات (خيرات) حال دا چې دوی په رکوع (د نفلي لمونځ) ولاړ وي.

تفسير: په دې آيت کې دا ښوولي شوي دي؛ چې د دوی اصلي رفيق ما سوا له الله جل جلاله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم او مخلصو مسلمانانو څخه بل هيڅوک نشي کېدی.

وَمَنْ يَتَوَلَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا فَإِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ ﴿۵۶﴾

او هر څوک چې دوستي کوي له الله سره، او له رسول د ده سره، او له هغو کسانو سره چې مؤمنان دي؛ نو بېشكه چې ډله د الله هم دوی دي غالبان (پر ټولو).

تفسير: په خصوصيت سره دغه آيت د عُباده ابن صامت رضي الله تعالى عنه په صفت کې نازل شوی دی، ځکه د ده تعلقات د (بني قينقاع) له يهودانو سره ډېر ښه وو، مګر ده د الله جل جلاله او د رسول الله صلى الله عليه و سلم د موالاتو او د مسلمانانو د رفاقت له امله (وجې) له هغوی سره خپل تعلقات پرې کړل، رضي الله تعالى عنه.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَكُمْ هُزُوًا وَلَعِبًا مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ أَوْلِيَاءَ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿۵۷﴾

اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې اى مؤمنانو !) مه نيسئ ! هغه کسان چې نيولي دي دوی دين ستاسې مسخره او لوبې؛ له هغو کسانو څخه چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب پخوا له تاسې، او (مه نيسئ) کافران دوستان، او وويرېږئ له الله څخه (په ترک د دوستۍ د کفارو کې) که يئ تاسې مؤمنان (په رښتيا سره).

تفسير: دلته له کفارو ځنې مشرکين مراد دي، لکه چې له عطف ځنې ظاهر دی.

وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ اتَّخَذُوهَا هُزُوًا وَلَعِبًا ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَعْقِلُونَ ﴿۵۸﴾

او کله چې غږ کوئ تاسې (او خلق رابولئ) لمانځه ته (يعنې اذان کوئ !) نو نيسي دوی هغه (لمونځ يا اذان) مسخرې او لوبې (او ورپورې خاندي)، دا (مسخرې) په سبب د دې دي؛ چې دوی يو قوم دی چې هيڅ عقل نه لري.

تفسير: يعنې کله چې اذان کوئ؛ نو دوی سوځي، او له ډېره قهره پرې مسخرې کوي، چې دا تمسخر د دوی د لوی حماقت او بې عقلۍ دليل دی.

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ هَلْ تَنقِمُونَ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلُ وَأَنَّ أَكْثَرَكُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٥٩﴾

ووايه (اى محمده !) چې اى اهل كتابو ! آيا عيب ګڼئ تاسې له مونږه (او كينه كوئ يعنې نه كوئ) مګر په دې سبب چې ايمان راوړى دى، مونږ پر الله او پرهغه كتاب چې لېږلى شوى دى مونږ ته، او پر هغو (كتابونو) چې لېږلي شوي دي پخوا (له دې نه) او (بل په دې سبب) چې بېشكه زيات له تاسې فاسقان دي.

تفسير: يعنې استهزاء كوونكي سره له دې چې د كتاب او په شريعتونو باندې د پوهې دعوى كوي؛ دوى دې لږ څه فكر وكړي ! او د انصاف له مخې دې راوښيي ! چې دوى له مسلمانانو سره دومره ضد او كينه ولې كوي؟ بې له دې چې مونږ د واحد لا شريك له «الله» او د ده پر ټولو منزلو كتابونو او د ده پر ګردو لېږل شويو رسولانو باندې په صدق سره ايمان لرو، او بالمقابل د استهزاء كوونكو دا حال دى؛ چې نه د الله تعالى په رښتيا او صحيح توحيد قائم دي، او نه د ګردو انبياوو عليهم السلام او رسولانو عليهم السلام تصديق او تكريم كوي، نو اوس همدا تاسې د انصاف له مخې ووايئ: چې د دغو د الله تعالى د منتها درجې نافرمانانو د الله تعالى پر فرمان منونكو بندګانو باندې خندل، ملنډې وهل، طعن او تشنيع به څرنګه وي؟ او تر كومه ځايه پورې دوى ته دا حق حاصل دى؟ .

قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكَ مَثُوبَةً عِندَ ٱللَّهِ ۚ مَن لَّعَنَهُ ٱللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ ٱلْقِرَدَةَ وَٱلْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ ٱلطَّٰغُوتَ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ﴿٦٠﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) آيا خبر كړم تاسې په (هغه چا چې) ډېر بد (عيب لري) له دې (چې تاسو يې ځمونږ عيب ګڼئ) له جهته د جزا په نزد د الله (ډېر بد) هغه څوك دى؛ چې لعنت كړى دى پر هغه الله او غضب يې كړى دى پر هغه، او ګرځولي يې دي له ځينو د دوى څخه بيزوګان او (له ځينو د دوى څخه) خنزيران او (هغه كسان دي چې) بندګي يې كړېده د شيطان، همدا (ملعونان) ډېر بد دي له جهته د ځاى (چې دوزخ دى) او ډېر ګمراه دي له سمې صافې لارې (د حق دين څخه).

تفسير: يعنې كه پر «ايمان بالله» استقامت او په هغه شي د زړه تصديق چې د الله تعالى له لوري په هره زمانه كې نازل شوى دى؛ ستاسې په زعم كې د مسلمانانو ډېر لوى جرم او زښته (ډېره) لويه ګناه ده، او له دې لامله تاسې دوى د طعن او ملامتى مورد ګرځوئ؛ نو راځئ چې زه تاسې ته د داسې يو قوم پته او سراغ درکړم، چې په خپل شرارت او ګندګۍ كې بدترين د مخلوقاتو دي، او د الله د لعنت او د غضب اثر نن هم پر دوى باندې ظاهره او ښكاره دى، او د دوى ډېر افراد د خپلو مكاريو او بېحاييو او د دنيوي حرص په سزا، بيزوګان او بد ځناوران ګرځېدلي وو، او د الله جل جلاله له بندګۍ ځني وتلي د شيطان غلامي يې غوره كړې وه، كه انصاف وكړئ شئ؛ نو په اصلي معنى سره بدترين د مخلوقاتو او ګمراه قوم هم دوى دي، او همدوى ستاسې د طعن او استهزاء مستحق ګڼدى شي.

وَإِذَا جَآءُوكُمْ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَقَد دَّخَلُوا۟ بِٱلْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوا۟ بِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا۟ يَكْتُمُونَ ﴿٦١﴾

او كله چې راشي (دا منافقان) تاسې ته وايي دوى چې ايمان راوړى دى مونږ، حال دا چې په تحقيق ننوتلي دي دوى (ستاسې په مجلس كې) په كفر سره، او دوى په تحقيق وتلي هم دي

(ستاسې له مجلس څخه) په کفر سره، او الله ښه عالم (ښه خبر) دی په هغه چې وو دوی چې پټول (به يې له نفاقه).

تفسير: دلته د ځينو هغو مخصوصو استهزاء کوونکو افرادو بيان دی، چې په غياب کې به يې پر اسلامي مذهب طعن او تشنيع او پر مسلمانانو به يې مسخرې کولې، ليکن کله به يې چې له نبي کريم صلى الله عليه وسلم يا له مخلصو مسلمانانو سره ليدل، نو د نفاق له لارې څخه به يې خپل ځان مسلمان ښکاره کولو، حال دا چې له اوله تر آخره پورې به د يوې شېبې له مخې هم د دوی تعلق له اسلامه سره نه وو، او نه به د رسول الله صلى الله عليه وسلم زباني وعظ او تذکير پر دوی څه اثر غورځاوه.

نو آيا دوی د ايمان او د اسلام په تش لفظ ويلو سره (معاذ الله) الله تېرايستی شي؟ که د هغه عالم الغيب والشهاده په نسبت چې پر هر قسم زړه او دهغی په پټو اسرارو مطلع دی، د دوی ګمان داسې وي، چې د ده خوښي تش په لفظي ايمان او يوائې د خولې په وينا سره حاصلولی شو؛ نو له دې ځنې پورته بل کوم يو حرکت د استهزاء او تمسخر وړ (لائق) دی؟ ګواکې له دې ځايه د يهودو او نصاراوو د هغو خندوونکو افعالو او حرکاتو بيان شروع شو، چې د هغو له تنبيه څخه وروسته د مسلمانانو د استهزاء کولو په ځای، هغوی پخپله د استهزاء وړ (لايق) ګرځي، په وروستنيو آيتونو کې هم د همدې مضمون تتميم او تکميل دی.

وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَارِعُونَ فِي الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَأَكْلِهِمُ السُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٦٢﴾

او ته به وينې ډېر له دغو (منافقانو) څخه چې منډې به وهي په ګناه کې (چې حصول د حرامو يا دروغ ويل دي) او په ظلم کې (چې زيادت دی په معاصيو کې) او په خوراک د دوی حرامو لره (لکه رشوت) خامخا بد دی هغه کار چې وو دوی چې کولو يې.

تفسير: غالبا له «اثم» څخه لازمي او له «عدوان» څخه متعدي ګناه مراد ده، يعنې د دې خلقو حال دا دی چې په ډېر شوق او رغبت سره د هر قسم ګناهونو په لوري منډې وهي، اعم له دې چې د هغو اثر د دوی په ذات پورې محدود پاتې شي، يا نورو ته هم وروررسېږي، د هغو خلقو چې اخلاقي حالت يې داسې سپک او وران وي، او په حرام خوړلو کې د دوی عمل داسې وي، نو د دوی په خرابی کې څه شبهه پاتې نه ده، دا د دوی د عوامو حال او خوی وو، وروسته له دې نه د دوی د خواصو بيان شوی دی.

لَوْلَا يَنْهَاهُمُ الرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ الْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ السُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَصْنَعُونَ ﴿٦٣﴾

ولې نه منع کوي دوی رباني عارفان او عالمان له ويلو د دوی د ګناه (د دروغو خبرو) او له خوړلو د دوی د حرامو (لکه رشوت او سود)، خامخا ډېر بد دی هغه کار چې وو دوی چې کولو يې (چې هغه سکوت دی له نهي د منکر نه).

تفسير: هر کله چې الله تعالى کوم قوم تباه کوي، نو د هغو عوام په ګناهونو او نافرمانيو کې ډوبېږي، او د هغو خواص يعنې علماء او مشايخ ګونګي شيطانان ګرځي، د بني اسرائيلو هم دا حال شو، چې عوام يې عموما په دنيوي لذائذو او شهواتو کې لګيا او د الله تعالى عظمت او جلال او د ده قوانين او احکام يې هېر کړل، او هغه کسان چې علماء او مشايخ ګڼل کېدل، د «أمر بالمعروف» او «نهي عن المنکر» فريضه يې پرېښوده، ځکه چې د دنيا په حرص او د شهوت

په اتباع کې دوی له عوامو ځنې هم وړاندې تللي وو، له مخلوق ځخه خوف یا د دنیا طمع د حقاني غږ د پورته کولو مانع وګرځېدل.

وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ

او وايي یهودیان لاس د الله بند کړی شوی دی (یعنې مونږ ته هیڅ نه راکوي، او روزي یې راباندې تنګه کړې ده).

تفسیر: یعنې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د بعثت په وخت کې دکتابیانو زړونه د دوی د شرارت، کفر، طغیان، بدکاریو، حرام خوړلو او د نورو خرابو کارونو له ممارسته دومره مسخ شوی وو؛ چې د الله تعالی په دربار کې له سپین سترګی او ګستاخی ځخه هم هیڅ نه ویرېدل، د پاک الله مرتبه د دوی په نزد د یوه معمولي انسان له مقام ځخه څه زیاته نه وه، د حق تعالی په دربار کې به یې بې تکلفه داسې واهي او خوشي چتې (بېکاره) خبرې کولې، چې د هغو له اورېدلو ځخه د هر چا وینستان جګ (نېغ) درېدل.

کله به یې ویل: ﴿إِنَّ اللَّهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَاءُ﴾ «بېشکه الله فقیر دی او مونږ غنیان یو» کله به دا الفاظ د دوی له خولې ځخه وتل: ﴿وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ﴾ «د الله لاس بند شوی دی» د دوی مراد به یا هغه شی وو چې ﴿إِنَّ اللَّهَ فَقِيرٌ﴾ ځخه یې مراداوه، چې معاذ الله الله تعالی فقیر شوی دی، او (استغفر الله) د ده په خزانه کې څه نه دي پاتې، یا به «غل الید» کنایه له بخل او امساکه وي، یعنې فقیر شوی خو نه دی، مګر په دې ورځو کې بخیلي او کنسکي (کنجوسي) کوي (العیاذ بالله).

غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ

تړلي دې وي (یا تړلی شوي دي) لاسونه د همدوی، او لعنت کړی شوی دی پر دوی په سبب د هغه چې وایي دوی، بلکه دواړه لاسونه د ده غځولي (کشاده) دي، روزي ورکوي (هر چا ته او صرفوي یې) هر رنګه چې اراده وفرمایي.

تفسیر: دا د ښېرا په ډول پخوا ویل یا د دوی د واقعي احوالو ځخه خبر ورکول دي، لکه چې واقعي بخل او جبن (یا ذلت او مسکنت) د دوی د خیراتونو استعداد ورک کړی، او د خیر لاسونه یې بیخي بند کړي وو، ﴿بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ﴾ «داسې نه ده، لکه چې دوی وایي، بلکه دواړه لاسونه د ده غځولي او جود یې ډېر او کرم یې له حده تېر دی».

چېرې چې الله تعالی ته «وجه» «یدین» «سمع» «بصر» «کلام» او نور نعتونه ذکر کړی شوي دي، نه ښایي چې سړی تېروځي، داسې توهم وکړي چې (معاذ الله) هغه پاک ذات هم د مخلوقاتو په شان دی، حال دا چې داسی نه دی، بلکه همداسې چې د الله تعالی ذات او وجود بېمثال او بې نظیر او بې ساری وحده لا شریک له دی؛ د ده جل جلاله حیات، علم، او نور ګرد نعتونه او صفتونه هم هیڅ یو نظیر، او مثال نه لري.

خلاصه: همداسې چې د الله تعالی ذات دی؛ همغسې د الله د «وجه، سمع، بصر، ید» او د نورو نعتونو، او صفاتو کیفیت هم د ده د اقدس ذات سره لایق او د ده د اعلی شأن سره وړ دي، او ځمونږ تعبیر او بیان له احاطې ځخه بالکل وتلی او وراء الوراء دی: ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾ (۲۵ جزء د الشوری سورت ۱۱ آیت ۲ رکوع).

البته د دې ټولو صفاتو معناګاني څرګندې دي، چې د «ید» معنی لاس، د «وجه» معنی مخ، او داسې نور، خو څرنګه چې د الله تعالی د شان سره لایق او مناسب دي، او د کیفیت علم یې یواځې الله ته معلوم دی.

﴿يُنفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ﴾ روزي ورکوي هر چا ته او صرفوي يې هر رنګه چې اراده وفرمايي په بالغه حکمت او مصلحت خپل، يعنې په دې باندې هم دی نه پوهيږي چې « په بالغه حکمت او کامله مصلحت او مطلقې ارادې او مشيئت خپل) په کوم وخت، او په چا، او په څه، او څومره صرف کړه شي؟ کله د امتحان يا اصلاح په غرض يو وفادار بنده په تنګسه او عسرت باندې مبتلا کوي، کله ده ته د وفاداری په مقابل کې له اخروي نعمتونو څخه د مخه د دنيوي برکاتو وَرُونه هم خلاصوي.

بالمقابل يوه مجرم او متمرد ته پخوا د آخرت له سزا څخه؛ د تنګسی، د ژوند د تنګوالي او د دنيوي نورو مصيبتونو او آفتونو سزا ورکوي، او کله ورته دنيوي ساز او سامان پراخوي، او زيات مهلت ورکوي، چې يا د الله تعالی له احساناتو څخه متأثر او له خپل فسق فجور څنې وشرميږي، يا د خپل شقاوت جام تر څنډو (غاړو) ډک کړي، او د انتهايي سزا مستحق شي، د دې مختلفو احوالو او اغراضو او متنوعو حکمتو په موجوديت کې د کوم سړي د مقبوليت يا د مردوديت فيصله د پاک الله په اطلاع سره يا په خارجي قرائنو يا د احوالو په بناء سره کولی شي، لکه چې د يوه غله لاس پرېکړی شي، يا د ډاکټر له خوا د کوم رنځور لاس پرېکړی شي، د دواړو په نسبت مونږ د خارجي احوالو او قرائنو له مخې پوهېدلی شو؛ چې هغه د سزا په ډول (طريقه) او دغه د دواء په قسم د شفقت او علاج له امله (وجې) پرېکړی شوی دی.

وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا

او خامخا زياتوي هرومرو ډېرو ته له دوی نه هغه (قرآن) چې نازل کړی شوی دی تاته له ربه ستا سرکښي او کفر.

تفسير: د دوی د سپين سترګی او ګستاخی څواب ورکړی شوی دی، ليکن د قرآن کريم له هسې حکيمانه څوابونو څخه د دې معاندينو او سفهاوو تسکين نه حاصليږي، بلکه د الله تعالی د کلام له اورېدلو څخه دوی په خپل شرارت او انکار لا پسې ټينګار (همېشه والی) او زيادت کوي، که صحي غذاء د يوه رنځور معدې ته ورسيږي، خو د هغې له سببه د ده مرض لا زيات شي؛ نو دا به د هغې غذا خرابي او قصور نه وي، بلکه د مريض د مزاج ورانی او خرابی به وي.

﴿كَثِيرًا﴾ د ﴿وَلَيَزِيدَنَّ﴾ لپاره مفعول دی او پر فاعل باندې چې ﴿مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ﴾؛ مقدم دی.

وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ ٱلْعَدَٰوَةَ وَٱلْبَغْضَآءَ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ

او غورځولی دی مونږ په منځ د دوی کې عدوات (دښمني) او بغض (نفرت) تر ورځې د قيامت پورې.

تفسير: هومره چې د دوی شرارت او انکار ترقي کوي؛ هغومره د اسلام او مسلمانانو پر خلاف سازشونه او پلمې (منصوبې) جوړوي، او د جنګ د اور لګولو لاره تياروي، ليکن د دوی په خپلو منځونو کې هم داسې يو نفاق لو ېدلی دی، چې له سره نه ورکيږي، نو له همدې سببه د اسلامي أخوت په خلاف د دوی جنګي تياری بری ونه مونده.

كُلَّمَآ أَوْقَدُوا۟ نَارًا لِّلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا ٱللَّهُ ۙ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًا ۚ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٦٤﴾

هر کله چې بلاوه دوی اور لپاره د جنګ (د رسول الله سره نو) مړ کولو به هغه (اور) الله، او سعيه کوي (ځغلي) دوی په ځمکه کې لپاره د فساد اچولو، او الله نه خوښوي فساد کوونکي (نو په سزا يې رسوي).

تفسير: له دې نه معلومه شوه: تر څو په مسلمانانو کې يو له بل سره محبت او أخوت مُستحکم وي، او دوی د رُشد او صلاح په لاره سم رهي (روان) وي، او له فتنې او فساد ځنې اجتناب کوي، لکه چې په «اصحابو کرامو رضوان الله تعالى عليهم أجمعين» کې دغه خصلتونه وو، تر هغه وخته پورې د کتابيانو ګرد کوښښونه د دوی په مقابل کې بېکاره ثابتېږي.

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْكِتٰبِ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۶۵﴾

او که بېشکه اهل کتابو ايمان راوړی وی په (محمد صلى الله عليه وسلم)، او پرهېز يې کړی وی (له معاصيو څخه) نو خامخا لرې کړی به وی مونږ له دوی ځنې ګناهونه د دوی، او خامخا ننويستلي به وو مونږ دوی جنتونو د نعمتونو ته (هغه جنتونو ته چې نعمتونه په کې دي).

وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ

او که بېشکه دوی درولی وی (احکام د) تورات او انجيل (د احکامو په تعميل سره يې) او هغه (کتاب) چې نازل کړی شوي دي دوی ته له (جانبه د) رب د دوی (د محمد صلى الله عليه وسلم په وسيله) نو خامخا خوړلې به يې (مېوې) له پاسه (د سرونو) خپلو او (غلې) له لاندې د پښو خپلو (د ځمکې نه).

تفسير: يعنې که د قرآنکريم يې (چې له تورات او انجيل څخه وروسته د دوی د تنبيه او هدايت لپاره نازل شوی دی) په عمل سره قائم کړی وی، ځکه چې بې د قرآنکريم له تسليم څخه د «تورات» او د «انجيل» او د ګردو آسماني کتابونو د اقامت مطلب اوس همدا کېدی شي، چې قرآن عظيم او رسول کريم صلى الله عليه وسلم ومني، چې د پخوانيو کتابونو له پېښ بينيو او پخوا ويلو سره سم رالېږلی شوی دی، ګواکې د «توارت» او «انجيل» د اقامت حواله يې ورکړه، او تنبيه يې وفرمايله چې که دوی قرآن کريم ونه مني؛ نو د هغه مطلب د ادی چې دوی د خپلو کتابونو له منلو څخه هم منکران شوي دي.

مِنْهُمْ اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ؕ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۶۶﴾

ځينې له دوی نه يو امت دی مقتصد (يوه ډله ده منصفه او ميانه تلونکې)، او ډېر له دوی څخه بد دی هغه کار چې کوي يې دوی.

تفسير: دا هغه معدود افراد دي، چې دوی د فطري سعادت او د اعتدال د لارې د اختيارولو له امله (وجې) د حق غږ ته لبيک ويلی دی، لکه (عبد الله بن سلام) او د حبشې پاچا «نجاشي» او نورو رضي الله عنهم.

يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ؕ وَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهٗ ؕ
وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۶۷﴾

اى رسوله (ځما) ورسوه (ته ټول) هغه شى چې نازل کړی شوی دی تاته له (جانبه د) ربه ستا، او که دې ونه رساوه (ټول) نو نه دی رسولی تا هيڅ پيغام د ده، او الله ساتي تا له (شره د) خلقو، بېشکه الله نه ښيي (سمه لاره) قوم کافرانو ته.

تفسير: په تجربې رسېدلې ده، چې انسان د تبليغ د فريضې په اداء کولو کې د څو وجوهاتو له امله (وجې) مقصّر پاتې کيږي، يا خو له ده سره د خپلې فريضې د اهميت کافي احساس او مينه نه وي، يا د خلقو له عمومي مخالفت څخه د

شديد نقصان رسېدلو ، يا كم له كم د ځينو فوائدو د فوت خوف وي، يا د مخاطبينو د عمومي طغيان او تمرد له امله (لكه چې په پخوانيو او وروستنيو آيتونو كې د كتابيانو په نسبت ښوولى شوى دى)، د تبليغ له مثمر او منتج كېدلو ځني مايوسي وي، د (۱) په ځواب كې: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ﴾ تر ﴿فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُۥ﴾ پورې، او د (۲) په ﴿وَٱللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِ﴾ او د (۳) په ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ﴾ سره ورکړى شوى دى.

يعنې ته خپل فرض اداء كړه ! الله تعالى ستا د ځان، عزت او پت ساتونكى دى، الله تعالى به د ځردې ځمكې د مخ دښمنانو ته هم موقع ور نه كړي، چې ستا په مقابل كې د بري لاره ومومي، باقي هدايت او ضلالت د الله تعالى په لاس كې دى، داسې قوم چې فقط كفر او انكار ته يې خپلې ملاوې تړلي وي، كه په سمه لاره رانشي؛ نو ته غم مه كوه ! او مه مأيوسه كېږه ! او خپله دغه مقدسه فريضه مه پرېږده !، ځمونږ نبي كريم صلى الله عليه وسلم د دې ربّاني هدايتو او آسماني اصولو سره سم ځرد امت ته د هر وړوكي او لوى شي تبليغ وفرمايه، او د انساني نوعې خواصو او عوامو ته هره هغه خبره چې هرې طبقې ته لايقه، او د هر چا له استعداده سره موافقه وي؛ بې له زيادته او نقصانه او بې له خوفه او خطره وروښوده، او ويې رسوَله، او د الله تعالى حُجت يې پر بندګانو تمام كړ، او له وفاته څخه تقريبا دوه نيمې يا درې مياشتې پخوا د «حجة الوداع» په موقع كې چې هلته له (۴۰،۰۰۰) تنو څخه زيات د اسلام خادمانو او د تبليغ محبّانو اجتماع درلوده، دوى ته «على رؤوس الأشهاد» اعلان وفرمايه، چې «اى الله ! ته شاهد اوسه ! چې ما (ستا أمانت) ورساوه».

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ

ووايه (اى محمده !) چې اى كتابيانو ! نه يئ تاسې پر هيڅ شي (له حقه دينه) تر هغه پورې چې قائم كړئ تاسې (ودروئ په عمل سره ځرد احكام د) «تورات» او «انجيل» او هغه (كتاب) چې نازل كړى شوى دى تاسو ته له (لوري د) ربه ستاسې.

تفسير: يعنې قرآنكريم د ځردو سماوي كتابونو خاتم او مُهيمن دى، په ۶ جزء د المائده سورت په (۴۸) آيت (۷) ركوع كې د دې آيت تفسير تېر شوى د ى.

وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا ۚ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٦٨﴾

او خامخا زياتوي هرو مرو (خامخا) ډېرو ته له دوى څخه هغه شى چې نازل كړى (لېږلى) شوى دى تاته له جانبه د رب ستا (يعنې چې قرآن زياتوي دوى ته) سركښي او كفر، نو مه خپه كېږه (او افسوس مه كوه) پر قوم كافرانو.

تفسير: يعنې د دې غم او افسوس له كبله (وجې) مه خپه كېږئ ! خپل فرض په امن او اطمئنان سره اداء كوئ !.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱلَّذِينَ هَادُوا۟ وَٱلصَّٰبِـُٔونَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٩﴾

بېشكه هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى (تش په ژبو) او هغه كسان چې يهوديان دي او (فرقه د) ترسايانو او نصرانيانو (د دوى حكم همداسې دى) هر څوك چې ايمان راوړي په الله او په ورځ آخره (چې ورځ د قيامت ده د زړه په صدق سره) او عمل وكړي نېك (عمل)؛ نو نشته (هيڅ قسم) وېره پر دوى باندې او نه به دوى (هيڅكله) خپه كېږي (د اجر په نقصان سره).

تفسير: د «ايمان بالله» لاندې دا ګرد (ټول) شيان داخل دي: فرض کړئ ! يو سړی د نبوت د روښانو دلائلو د موجوديت سره سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم توهين کوي (او دی د نبوت په دعوی کې دروغجن ګڼي، چې همدا د هغه توهين دی) نو آيا د يوه حکومت د سفير توهين او د سفارت د صافو او صريحو اسنادو تکذيب، د هغه حکومت تکذيب او توهين نه دی؟ همداسې وپوهېږئ ! هر هغه څوک چې د يوه رښتين رسول عليه السلام تکذيب کوي، او هغه نه مني؛ دغه في الحقيقت د الله تعالى د هغو صافو او صريحو آثارو او دلائلو تکذيب دی، چې د ده د نبوت د تصديق لپاره يې نازل کړي دي: ﴿فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ﴾ (۷ جزء د الأنعام سورت (۳۳) آيت (۴) رکوع).

آيا د الله تعالى د صريحو آيتونو او ښکاره دلائلو له دروغ ګڼلو څخه وروسته د «ايمان بالله» دعوی پاتې کېدی شي؟ د هغو تفصيلاتو په لوري چې قرآن کريم د «ايمان بالله» او عمل صالح په اجمالي عنوان سره دلته اشاره فرمايلې ده؛ به نورو مواضعو کې هغه په ښه شرح او بسط مذکور دي.

ځما په نزد زيات صحيح او قوي قول همدا دی چې: «صابئين» په عراق کې يوه فرقه وه، چې د هغو مذهبي اصول عموما د اشراقي حکماوو او طبيعي فلاسفه وو له اصولو مأخوذ وو، دې خلقو د روحانيانو په نسبت زياته غُلُوّ او ډېره مبالغه کوله، بلکه د هغوی عبادت به يې کاوه، د دوی خيال داسې وو چې: يواځې د مجردو ارواحو او تش د فلکي مدبراتو او نورو په استعانت او استعداد مونږ تر «رب الأربابه» يعنې لوی معبود پورې رسېدی شو، نو ځکه مونږ ته ښايي چې په شاقه رياضتونو او د شهواتو په کسر په روح کې تجرد او صفايي پيدا کړو، او له روحاني عالم سره خپله علاقه ټينګه کړو، بيا د دوی په خوشالی او لاس نيولو تر الله تعالى پورې رسېدی شو، د انبياوو د اتباع ضرورت نشته، د کواکبو د مدبّره ارواحو او همداسې د نورو روحانياتو په خوشالولو کې به يې له خپله ځانه د هغوی هيکلونه (تصويرونه) جوړول، او د دوی په ارواحو به يې لمونځ، روژه، قرباني او نور شيان کول.

خلاصه دا چې د «حنفاوو» په مقابل کې د «صابئينو» جماعت وو، چې د هغه ډېره لويه حمله پر نبوت او د ده پر لوازمو او خواصو باندې وه، د حنيف ابراهيم عليه السلام د بعثت په وخت کې (د نمرود) قوم صابيُّ العقيده وو، چې د دوی په ترديد او ابطال کې د الله تعالى خليل د فداکارۍ او ايثار اظهار وکړ.

لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَأَرْسَلْنَا إِلَيْهِمْ رُسُلًا ۖ كُلَّمَا جَاءَهُمْ رَسُولٌ بِمَا لَا تَهْوَىٰ أَنْفُسُهُمْ فَرِيقًا كَذَّبُوا وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ ﴿٧٠﴾

خامخا په تحقيق اخيستې ده مونږ وعده ټينګه له بني اسرائيلو (اولادې د يعقوب) څخه، او ليږلي وو مونږ دغو (بني اسرائيلو) ته رسولان (چې ور ياد کړي دغه عهد او ور بيان کړي شرعي أحکام)، هر کله چې به راغی دوی ته کوم رسول په هغه (شرعي حکم) سره چې نه خوښاوه (هغه شرعي حکم لره) نفسونو د دوی، ځينې رسولان (لکه موسى او عيسى) يې دروغجن وګڼل او ځينې رسولان (لکه يحيى، زکريا) به يې وژل.

وَحَسِبُوا أَلَّا تَكُونَ فِتْنَةٌ فَعَمُوا وَصَمُّوا ثُمَّ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوا وَصَمُّوا كَثِيرٌ مِنْهُمْ ۚ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٧١﴾

او ګومان کړی وو دغو (بني اسرائيلو) د دې چې نه به وي (او نه به رسيږي دوی ته) هيڅ فتنه (خرابي د انبياوو په دغه تکذيب او قتل کې)، پس ړانده شول (د حقې لارې له ليدلو څخه)

او کانه شول (د حق له اوربدلو څخه) بيا رجوع (په رحمت سره) وکړه الله په دوی باندې، بيا (دوهم ځلي) ړانده او کانه شول (د حق له ليدلو او اوربدلو څخه) ډېر له دوی ځنې (په انکار سره له محمده)، او الله ښه ليدونکی دی د هغو کارونو (هم) چې کوي (يې) دوی.

تفسير: يعنې بنې اسرائيلو پوخ عهد او پيمان مات او له الله تعالی سره يې بد عهدي او غداري وکړه، د ده رسولان يې دروغجنان کړل، او ځينې يې ووژل، دا خو د دوی د «ايمان بالله او صالح عمل» حال وو.

د «ايمان باليوم الآخر» اندازه يې له دې نه قياس کړئ ! چې د دومره شديدو مظالمو او ياغيانه جرائمو له ارتکاب سره سره بيخي هوسا (خوشاله) او بې غمه ناست دي، ګواکې دوی په دې فکر کې هيڅ نه دي، چې دوی د دغو خپلو بدو چارو د سزاوو ګالونکي (برداشت کوونکي) دي، يا د دې ظلم او بغاوت خرابې نتيجې به کله د دوی مخې ته راتلونکې وي.

په همداسې خيالاتو او چرتونو کې د الله تعالی له دلائلو او کلام څخه بيخي ړانده او کانه شول، او داسې کارونه يې وکړل، چې د کولو نه وو، تر دې چې ځينې انبياء عليهم السلام يې قتل او ځينې يې بنديان کړل، آخر الله تعالی پر دوی «بخت نصر» مسلط کړ، بيا د يوې اوږدې مودې څخه وروسته د «پارس» ځينو پاچاهانو دوی د «بخت نصر» د ذلت او رسوايۍ له قيده خلاص کړل، او له (بابل) څخه يې د (بيت المقدس) په لوري ښېرته ولېږل، په دې وخت کې دې خلقو توبه وويسته، او د خپل حال د اصلاح په لوري متوجه شول، او الله تعالی هم د دوی توبه قبوله کړه، ليکن لږ څه موده وروسته بيا دوی په خپلو همغو شرارتونو او بدو چارو لاس پورې کړ، او بيخي ړانده او کانه شول، او د زکريا عليه السلام او يحيى عليهما السلام په قتل يې جرائت وکړ، او د عيسى عليه السلام قتل ته هم تيار شول.

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ ۖ وَقَالَ الْمَسِيحُ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ ۖ إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿٧٢﴾

خامخا په تحقيق کافران شوي دي هغه کسان چې وايي دوی (له ډېره جهله) چې بېشکه الله همدغه مسيح ځوی د مريمې دی، او ويل به مسيح چې: ای بنې اسرائيلو (اولادې د يعقوبه !) عبادت کوئ تاسې د (يواځې هغه) الله چې رب ځما او رب ستاسې دی، بېشکه شان دا دی هر چا چې شريک ونيو له الله سره (په عبادت کې بل شی) نو په تحقيق حرام کړی دی الله په دغه (مشرک) باندې جنت، او ځای د ده اور (د دوزخ دی)، او نشته ظالمانو ته هيڅ مدد کوونکي (چې عذاب ترې دفعه کړي).

تفسير: له دې ځايه د نصرانيانو د «ايمان بالله» کيفيت ښودل کيږي، د دوی د ايمان بالله حال دا دی، چې د عقل په خلاف او له سليم فطرت څخه چپ (مخالف) او د مسيح عليه السلام له تصريحاتو ځنې مخالف د مسيح عليه السلام د بې بې مريمې له ځوی ځنې په خپله الله جوړوي، حال دا چې پخپله مسيح عليه السلام د الله تعالی په ربوبيت او لکه نور انسانان پخپل مربوبيت بندګی باندې ظاهر باهر اقرار او اعتراف کوي، او د هغه خرابې او ورانې يې په ډېر زور او شور سره بيان کړی دی، چې په هغه کې د ده امت مبتلا کېدونکی وو، بيا هم دا ړانده عبرت نه آخلي.

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ ۘ

خامخا په تحقيق کافران شوي دي هغه کسان چې وايي دوی چې بېشکه الله دريم له دريو (معبودانو) څخه دی.

تفسير: يعني مسيح عليه السلام او روح القدس عليه السلام او الله جل جلاله يا مسيح عليه السلام او مريم رضي الله تعالى عنها او الله جل جلاله درې واړه معبودان دي (العياذ بالله) په دوی کې يوه برخه د الله شوه، بيا هغه درې واړه يو او هغه يو درې دي.

د عامو نصرانيانو عقيده همدا ده، او دغه د عقل او بداهت نه خلاف عقيده په عجيبو تاو کړو او پيچلو عباراتو سره اداء کوي، او کله چې په دغه مفهوم څوک نه پوهيږي، نو هغه يو ما وراء العقل حقيقت بولي.

وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۚ وَإِنْ لَمْ يَنْتَهُوا عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾
أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى اللَّهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٧٤﴾

حال دا چې نشته (بل) هيڅ لايق د عبادت مګر (خو شته) معبود يو (چې الله دی)، او که وانه اوښتل دوی (له شرکه توحيد ته او) له هغې خبرې چې وايي؛ نو خامخا وبه رسيږي هرو مرو (خامخا) هغو کسانو ته چې کافران (پاتې) شوي دي له دوی څخه عذاب دردناک. آيا نو توبه نه کوي دوی الله ته (له دې ويلو) او (نه) غواړي بخښنه له ده څخه (له دې بدې وينا يعني توبه دې وباسي او معافي دې وغواړي)، او الله ښه مغفرت کوونکی (د خطياتو) ډېر مهربان دی.

تفسير: دا د هغه «غفور رحيم» شان دی، چې داسې ياغي او ګوستاخ مجرم هم کله چې په زړه کې وشرميږي، او د حقيقي اصلاح په عزم او ارادې حاضر شي، نو په يوه شېبه (ساعت) کې د ده د ګرد عمر جرائم ورمعافوي.

مَا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ ۖ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ۖ وَأُمُّهُ صِدِّيقَةٌ ۖ كَانَا يَأْكُلَانِ الطَّعَامَ ۗ انْظُرْ كَيْفَ
نُبَيِّنُ لَهُمُ الْآيَاتِ ثُمَّ انْظُرْ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٧٥﴾

نه دی مسيح څوی د مريمې مګر يو رسول دی، (او معبود نه دی)، په تحقيق تېر شوي دي پخوا له ده څخه (نور ډېر) رسولان، او مور د ده صديقه (ډېره رښتينې) وه، وو دوی دواړه (مور او څوی) چې خوړه به يې طعام (په شان د نورو مخلوقاتو، نو څرنګه به معبود او الله شي؟)، وګوره ! څرنګه بيانوو مونږ دوی ته دلائل (د توحيد) بيا وګوره (دوی ته) چې څرنګه چپ کولی شي دوی (له حقه).

تفسير: يعني له هغه مقدس او معصوم جماعت څخه دغه مسيح عليه السلام هم يو فرد دی، نو دی معبود ګرځول ستاسې سفاهت دی، د جمهور امت تحقيق همدادې چې په ښځو کې نبوت نه دی راغلی، او دا لوی او لوړ منصب نارينه وو لره مخصوص دی: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُوحِي إِلَيْهِمْ مِنْ أَهْلِ الْقُرَىٰ﴾ (۱۳ جزء د يوسف د سورت (۱۰۹) آيت (۱۲) رکوع).

بتول بي بي مريم رضي الله تعالى عنها هم يوه وليه بي بي وه، نبي نه وه، له غور کولو څخه وروسته معلومېدی شي، هر هغه څوک چې خوړلو او څښلو ته اړ (مجبور) وي، نو دی د دنيا هر شي ته محتاج وي، ځمکه، هوا، لمر، حيوانات حتى له بولو او غائطو او نورو ضروریاتو څخه هم نشي مستغني کېدلی، بيا هم تاسې ووايئ !، هغه ذات چې د نورو انسانانو په شان د خپل ژوندون او بقاء لپاره له عالم أسباب څخه مستغني نه وي، نو دی څرنګه معبود کېدی شي؟ دا داسې قوي او واضح دليل دی، چې عالم او جاهل يو شان پرې پوهېدی شي، يعني خوړل او څښل له الوهيت سره منافي دي.

قُلْ أَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ۚ وَاللَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٧٦﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته چې) آيا عبادت كوئ تاسې بې له الله څخه د هغه شي؛ چې مالك نه دى لپاره ستاسې د (د فع كولو د) ضرر او نه د (رسولو د) نفع، او الله هم دى دى ښه اوربدونكى (د ګردو اقوالو) ښه عالم (په پټو احوالو).

تفسير: يعنې لكه چې مسيح عليه السلام ته يې الله ووايه؛ نو لازم دى چې معبود هم ورته ووايي، مګر معبود ګرځېدل يواځې د هغه ذات سره مختص دى؛ چې د هر قسم نفع او ضرر مالك او پوره اختيار لرونكى وي، ځكه چې عبادت د انتهايي تذلل نوم دى، او انتهايي تذلل د هغه ذات په مقابل كې اختيار كولى شي، چې د انتهايي عزت او غلبې لرونكى وي، په هر آن كې د ګردو خبرو اوربدونكى او د ټولو پر احوالو پوهېدونكى وي، په دې سره د تثليث د شركيې عقيدې او د ګردو مشركينو د نورو باطله عقائدو ردّ هم وشو.

قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوا أَهْوَاءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا مِن قَبْلُ وَأَضَلُّوا كَثِيرًا وَضَلُّوا عَن سَوَاءِ السَّبِيلِ ﴿٧٧﴾

ووايه (اى محمده !) چې اى اهل كتابو: مه كوئ تجاوز (له حده او مه كوئ مبالغه) په (خبره) د دين كې په ناحقه سره، او مه كوئ متابعت د چتې (بېكاره) خواهشونو د (هغه) قوم چې (له ډېره جهله) په تحقيق ګمراه شوي دي پخوا (له دې نه)، او ګمراهان كړي دي دوى ډېر (خلق)، او ګمراه شوي دي دوى له سمې صافې لارې.

تفسير: د عقيدې تجاوز او مبالغه دا ده چې يو بشري مولود معبود وګرځوئ، او په عمل كې مبالغه دا ده چې هغه ته «رهبانيت» وايئ ﴿وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ﴾ (۲۷ جزء د الحديد سورت (۲۷) آيت (۴) ركوع).

د يهودانو له هغو قبائحو څخه چې بيان كړل شول؛ ظاهريږي چې په دنيا پرستى كې د ډوبېدلو له سببه د دوى په نزد كې د دين او ديندارانو هيڅ څه عظمت او وقعت نه وو، تر دې چې د انبياوو عليهم السلام اهانت او قتل او نور د دوى خاص شعائر وو، پر خلاف د دوى نصرانيانو د انبياوو عليهم السلام په تعظيم كې دومره غُلُوّ وكړه، چې له دوى ځنې ځينو ته يې د الله ځوى هم ويل، او دنيا يې پرېښوده، او «رهبانيت» يې اختيار كړ.

﴿وَلَا تَتَّبِعُوا أَهْوَاءَ قَوْمٍ﴾ الآيه ـ «او مه كوئ تاسې متابعت د چتې (بېكاره) خواهشونو د قوم» يعنې په اصلي «انجيل» او نورو حقو آسماني كتابونو كې د دې شركي عقيدې هيڅېرې څه اثر او پته نه وه لګېدلې، وروسته بيا د «يوناني بت پرستانو په تقليد هغه د (پولوس) له خوا ايجاد شوه، چې پر همغې غلطې لارې نور ګرد سره رهي (روان) او تينګ پاتې شول»، له داسې راننده تقليد څخه د نجات هيله (اميد) او توقع لرل هيڅ يو عاقل لره نه ده پكار.

لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ ﴿٧٨﴾

لعنت كړى شوى دى په هغو كسانو چې كافران شوي دي له بني اسرائيلو څخه په ژبه د داود سره او (په ژبه د) عيسى ځوى د مريمې، دا (لعنت پر دوى) په سبب د دې وو چې نافرماني يې كوله (له احكامو د الله) او وو دوى چې تېرېدل به (له حدودو د الله).

تفسير: هسې خو په ګردو آسماني کتابونو کې پر کافرانو لعنت ويل شوی دی، ليکن د بني اسرائيلو پر کافرانو څنګه چې دوی په عصيان او تمرد کې په داسې شان له حده تېر شول؛ چې نه مجرم په هيڅ ډول سره د جرائمو له ارتکابه بېرته ګرځېده، او نه غير مجرم د مجرم مخه نيوله، او د منکراتو او فواحشو پر مرتکبينو باندې د هيڅ يو قسم انقباض، تکدر، او خفګان اظهار هم نه کېده، نو دلته الله تعالى د داود او مسيح عليهما السلام په ژبه پر دوی لعنت ووايه، همغسې چې په ګناهونو کې د دوی جسارت له حده او اندازې تېری او تجاوز کړی وو؛ نو دا لعنت هم د داسې جليل القدرو انبياوو په توسط پر دوی وويل شو، چې په فوق العاده ډول سره تباه کوونکی ثابت شو، غالبا د همدې لعنت په نتيجه کې له دوی څنې ډېر افراد ظاهرا او باطنا د بيزوګانو او بدو ځناورو په شکل مسخ او بدل کړل شول.

كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ

وو دوی چې يو بل به يې سره نه منع کول له هغه بد عمله چې کاوه به دوی هغه.

تفسير: د «لا يتناهون» دوه معنې کېدی شي: (١) نه ستانه کېدل (كما في روح المعاني). (٢) يو بل به يې نه ستناوه (كما هو المشهور)، کله چې بدي په يوه قوم کې منتشره او خوره شي، او په هغوی کې کوم يو منع کوونکی او ستنوونکی هم نه وي؛ نو د عمومي عذاب اندېښنه شته.

لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧٩﴾ تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُوا

(قسم دی) خامخا بد وو هغه کار چې وو دوی چې کاوه به يې. ته به وينې ډېر له دوی چې دوستي به کوي له هغو کسانو سره چې کافران شوي دي.

تفسير: له کافرانو څنې مراد مشرکين دي، او د دې آيتونو مصداق د مدينې منورې يهودان وو، چې دوی د مکې معظمې له مشرکانو سره جوړه او له مسلمانانو سره يې جنګ کړی وو.

لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ ﴿٨٠﴾

(بيا قسم دی چې) خامخا بد وو هغه شی چې پخوا ليږلي وو دوی ته ځانو د دوی (چې هغه شی موجب وو) د دې چې په غضب شو الله پر دوی، او په عذاب کې دوی به تل وي.

تفسير: يعنې د اعمالو هغه ذخيره چې پخوا له مرګه يې آخرت ته لېږي؛ داسې ده چې دوی د الهي غضب او د ابدي عذاب مستحق ګرځوي.

وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاءَ

او که وی دوی چې ايمان يې راوړی وی (د زړه نه) پر الله او نبي (محمد يا موسى) او په هغه کتاب چې نازل شوی دی ده ته، نو نه به وو نيولي دوی دا مشرکان دوستان.

تفسير: له «النبي» څخه ځينې مفسرين موسى عليه السلام او ځينې محمد صلى الله عليه وآله وصحبه وسلم مرادوي، مطلب يې داسې شو: که يهودانو په ربښتيا سره د موسى عليه السلام په صداقت او تعليماتو يقين درلود (لرلی)، له مشرکانو سره به يې دوستي نه کوله، يا که دوی پر نبي عليه السلام په اخلاص سره ايمان راوړی وي؛ نو داسې حرکت به له دوی څنې نه صادرېده، چې د اسلام له دښمنانو سره ناسته ولاړه او جوړه وکړي، په دې دوهم تقدير سره به دا آيت د يهودو د منافقانو په حق کې وي.

وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٨١﴾

او لېکن ډېر (کسان) له دوی څخه فاسقان دي (د ایمان له دائرې څخه وتونکي).

تفسیر: یعنې د الله تعالی او د خپل منلي رسول سره د ډېرې نافرمانۍ کولو له امله (وجې) دوی ته داسې یو حالت پیدا شو، چې اوس د موحدینو په مقابل کې مشرکینو ته ترجیح ورکوي، د افسوس ځای دی چې نن هم زیاتره په نامه سره مسلمانان همداسې دي، چې د مسلمانانو او د کفارو د مقابلې په وخت کې له کفارو سره دوستي کوي، او د کفارو حمایت او وکالت کوي.

«اللهم احفظنا من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا»

لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا ۖ وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٨٢﴾

خامخا مومي به ته ډېر سخت له ټولو خلقو له جهته د عدوات (دښمنۍ) له هغو کسانو سره چې مؤمنان دي؛ یهودیان او (بل) هغه کسان چې مشرکان دي، او خامخا مومي به ته ډېر نژدې له ګردو (ټولو) خلقو څخه له جهته د دوستۍ له هغو کسانو سره چې مؤمنان دي؛ هغه کسان چې وایي بېشکه مونږ نصاری یو، دا (دوستي) په سبب د دې ده؛ چې بېشکه ځینې له دوی رښتین عالمان او زاهدان پوهان دي، او بېشکه چې دوی نه کوي تکبر او لویي (له منلو د حقه).

وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَىٰ أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ ۖ يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ ﴿٨٣﴾ وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَمَا جَاءَنَا مِنَ الْحَقِّ وَنَطْمَعُ أَن يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصَّالِحِينَ ﴿٨٤﴾ فَأَثَابَهُمُ اللَّهُ بِمَا قَالُوا جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْمُحْسِنِينَ ﴿٨٥﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿٨٦﴾

او کله چې واوري دوی هغه (کلام د الله قرآن) چې نازل (رالېږلی) شوی دی رسول ته (نو) وینې به ته سترګې د دوی چې بهیږي (تویوي) له اوښکو؛ له جهته د دې چې وپېژانده دوی له حقو (خبرو د الله)، وایي دوی: ای ربه ځمونږه ! ایمان راوړی دی مونږ (په قرآن او رسول ستا) نو ولیکه مونږ له شاهدانو (منونکو). او څه باعث دی پر مونږ چې نه به راوړو ایمان په الله، او په هغه څه چې راغلی دی مونږ ته له حق څخه (چې رسول او قرآن دی) حال دا چې طمع (هیله، امید) لرو د دې چې داخل به کړي مونږ رب ځمونږ سره له قوم صالحانو (چې محمدي امت دی په جنت کې)، پس بدل ورکړ دوی ته الله په سبب د هغه چې ویلې دوی جنتونه چې بهیږي له لاندې (د ونو او مانیو) د دوی ویالې، چې تل به وي دوی په هغو کې، او دا (جنت) جزاء د محسنانو (نیکۍ کوونکو) ده. او هغه کسان چې کافران (منکران) شوي دي او نسبت د دروغ یې کړی آیتونو ځمونږ ته؛ همدغه کسان صاحبان د جحیم (ملګري د دوزخ) دي.

تفسیر: په دې آیتونو کې دا ښوولې شوي دي؛ چې د یهودانو دوستي له مشرکینو سره محض د اسلام او مسلمانانو د بغض او عداوت له سببه ده، د هغو قومونو له جملې څخه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورسره زیاته سابقه

درلوده (لرله)، يهودانو او مشرکينو دواړو قومونو په ترتيب سره له اسلام او مسلمانانو سره سخت بغض او عداوت درلود (لرلو).

د مکې معظمې د مشرکانو ضرر رسول الله صلى الله عليه وسلم ته خو «أظهر من الشمس» دی، ليکن ملعونو يهودانو هم له ډېرو سپکو او ناوړو حرکاتو څخه لاس نه آخيسته، په داسې حال کې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مطمئن او ډاډه ناست وو؛ لويه تيږه يې پرې ورورغړوله چې په شهادت يې ورسوي، په طعام کې به يې زهر وراچول، سحر او کوډې به يې پرې کولې.

لنډه يې دا چې يو غضب به يې وروسته له بل غضب او يو لعنت به يې پس له بل لعنته ځانته ګاټه، بالمقابل سره له دې چې نصارى هم په کفر کې مبتلا وو، او له اسلام سره يې حسد او رخه(کينه) درلوده، او داسې سترګې يې نه درلودې؛ چې په هغو سره د مسلمانانو عروج وکتلى شي، بيا هم په دوى کې د حق منلو استعداد له دې دواړو فرقو ځنې زيات وو، د دوى زړونه د اسلام او د مسلمانانو محبت او مينې ته نسبتا ژر مائل کېدل.

لکه چې د روم (قيصر) او د مصر پاچا (مقوقس) او د حبشې ټولواک (پاچا) نجاشي هغه سلوک چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د رسالت له دعوت سره کړى دى؛ د دې خبرې شاهد دى، چې په هغه وخت کې د حق منلو او د مسلمانانو د دوستۍ صلاحيت او استعداد په دوى کې د نورو اقوامو په نسبت زيات وو.

کله چې د اصحابو يو ډله د مشرکانو د ظلم او تيري له لاسه پکو (تنګه) شوه؛ نو د (حبشې) په لورې يې هجرت وکړ، او مشرکان تر هغه ځايه پورې هم د مسلمانانو په تعقيب کې وو، او (نجاشي) ته يې د دوى په خلاف ويناوې وکړې، نو (نجاشي) يوه ورځ دغه مسلمانان خپل حضور ته وروغوښتل، او څه پوښتنې يې له دوى څخه وکړې، او د مسيح عليه السلام په نسبت يې هم د دوى عقيدې ځان ته ښکاره کړې، جعفر رضي الله عنه د «مريم» د سورت څو آيتونه ورته ولوستل، او خپلې عقيدې يې په صاف ډول وربيان کړې، په (نجاشي) يې ډېر زيات تأثير وکړ، او اقرار يې وکړ: «څه شيان چې د مسيح عليه السلام په نسبت بيان فرمايلي شوي دي؛ بيخي رښتيا او بالکل صحيح دي»، (نجاشي) د پخوانيو کتابونو له بشارتونو سره سم محمد صلى الله عليه وسلم آخر الزمان نبي ومانه.

دا قصه اوږده ده، لنډه يې دا چې له هجرت څخه څو کاله وروسته د حبشې پاچا يوه جرګه (چې پر اويا تنو جديد الاسلامو عيسايانو مشتمله وه) د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم أقدس خدمت ته ولېږله، کله چې دا جرګه مدينې منورې ته ورسېده، او د قرآن کريم له اورېدلو څخه خوندوره شوه؛ نو د الهي کلام له اورېدلو څخه دوى ته زيات رقّت پيدا شو، او په ژړا شول، او په داسې حالت کې چې د دوى له سترګو اوښکې بهېدې؛ پر ژبو يې د «ربّنا آمنّا» کلمات جاري وو، په دى آيتونو کې دهمغې جرګې حال بيان شوي دې.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحَرِّمُواْ طَيِّبَٰتِ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿٨٧﴾ وَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلًا طَيِّبًا وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾

اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړى دى (يعنې اى مؤمنانو !) مه حراموئ تاسې پاک لذيذ له هغو شيانو نه چې حلال کړي دي الله لپاره ستاسې، او مه کوئ تېرى تاسې (له حدودو د الله)، بېشکه الله نه خوښوي تېرېدونکي له حدودو. او خورئ تاسې له هغه څيزه چې رزق (روزي) درکړې ده تاسې ته الله (چې) حلاله پاکيزه (ده) او وويرېږئ له الله څخه، هغه (الله) چې تاسې پرې ايمان لرونکي يئ !.

تفسير: هيڅ يو آسماني کتاب تر نن پورې داسې جامع، معتدل، او فطري تعليم د انساني ترقياتو د هرې څُعبې په نسبت نه دی وړاندې کړی، لکه چې په دغو دوو آيتونو کې د قرآنکريم له خوا وړاندې شوی دی، په دې آيتونو کې الله تعالی مسلمانان په صاف ډول سره له دې نه منع کړي دي، چې دوی کوم لذيذ، حلال، او طيب شی په خپلو ځانونو عقيدتاً يا عملا حرام وګرځوي، نه يواځې هم دا بلکه دوی ته الله تعالی له حلالو او طيبو نعمتونو ځنې د متمتع کېدلو ترغيب هم ورکړی دی، مګر سره له سلبي او ايجابي شرطونو:

(۱) چې اعتداء (حد نه تجاوز) ونه کړئ، او له حده تېر نشئ.

(۲) چې تقوی اختيار کړئ، او له الله جل جلاله ځخه وويرېږئ.

د اعتداء دوه مطلبه کېدی شي، له حلالو شيانو سره لکه د حرامو په شان معامله کول، او د نصرانيانو په شان په رهبانيت کې مبتلا کېدل، يا د لذائذو او طيباتو په متمتع کېدلو کې د اعتدال له حده تېرېدل، تر دې چې په لذتونو او شهوتونو کې داسې لګيا او منهمک کېدل، چې د يهودانو په شان يواځې دنيوي ژوندون خپل مقصد او مطمح نظر وګرځوي.

الغرض د غُلُوّ ، جفا، افراط او تفريط په منځ کې يوه متوسطه او معتدله لاره اختيارول په کار دي، نه په دنيوي لذتونو کې د ډوبېدلو اجازه شته، او نه د «رهبانيت» له لارې د مباحاتو او طيباتو پرېښودل په کار دي، د «رهبانيت» له لارې قيد مو ځکه کېښود، چې په ځينو وختونو کې د بدني يا نفسي علاج لامله له کوم مباح ځخه پرهېز کول په عارضي ډول سره په ممانعت کې داخل نه دی.

او همدا راز مسلمان په تقوی سره مأمور دی، چې د هغې معنی دا ده: چې له الله جل جلاله ځنې وويريږي، او له ممنوعاتو ځنې اجتناب وکړي، له تجربې ځخه معلومه شوې ده، چې د ځينو مباحاتو استعمالول په ځينو وختونو کې د کوم حرام يا ممنوع شي ارتکاب ته مفضي کيږي، د داسې مباحاتو پرېښودل ــ نه د عهد يا تقرب او قسم (لوړې) په توګه (طور) سره؛ بلکه د احتياط په ډول ښه دي، که کوم سړی يې په کوم وخت کې سره د اباحت له اعتقاده ترک کړي، نو دغه «رهبانيت» نه دی، بلکه په ورع او تقوی کې شامل دی: «لا يبلغ العبد أن يكون من المتّقين حتّى يدع ما لا بأس به حذراً ممّا به بأس ــ الترمذي»، الحاصل د اعتدا ترک او د تقوی د اختيار د قيد له ملحوظ سره له هر قسم طيباتو ځخه استفاده کېدی شي، او د ژوندانه په هر اړخ کې د پرمختګونو وَرُونه پرانيستلی شي.

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ

نه نيسي تاسې الله په لغوه سره په قسمونو ستاسې کې.

تفسير: يعنې پر دوی په دنيا کې هيڅ کفاره نشته، لکه چې په «منعقد يمين» کې واجبه ده، د «لغو» او بېهوده قسم تفسير په (۲) جزء د البقره سورت په (۲۲۵) آيت (۲۸) رکوع کې پخوا ليکلی شوی دی.

وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ الْأَيْمَانَ ۖ فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ ۖ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ ۚ ذَٰلِكَ كَفَّارَةُ أَيْمَانِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ ۚ وَاحْفَظُوا أَيْمَانَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٨٩﴾

وليکن نيسي تاسې په (ماتولو د) هغه (عهد) سره چې کلک کړي وي تاسې قسمونه (پر هغه، په قصد د زړه سره)؛ نو کفّاره (د ماتولو) د دې (قسم) طعام ورکول دي لسو مسکينانو ته له اوسطې

(درجې) د هغو خوړو چې طعام ورکوئ تاسې (په هغه سره) کورنيو خپلو ته، يا جامې ورکول دي دغو (لسو مسکينانو) ته يا آزادول د (يوې) غاړې دي (د مريي)، نو هر څوک چې ونه مومي (له دغو درې واړو کفّاراتو يو هم) نو روژه نيول د درو ورځو دي، دا (مذکور شيان) کفاره د قسمونو ستاسې ده، کله چې قسم ياد کړئ تاسې (او بيا يې مات کړئ)، او ساتئ تاسې قسمونه خپل (له هر قسم نقصانه)، همداسې (چې د يمين احکام يې بيان کړل) بيانوي الله تاسې ته آيتونه خپل لپاره د دې چې شکر وکاږئ په دې نعمت او احسان او شرعي بيان.

تفسير: يعنې له قسم ماتولو څخه وروسته کفاره اوړي، چې هغه يو له دغو څلورو واړو کارونو څخه دی:

(۱) طعام ورکول دي لسو تنو مسکينانو ته، په طعام ورکولو کې اختيار لرئ چې لس تنه مسکينان په خپل کور کې مېلمانه کوئ، او مړوئ يې، يا د «فطر» د صدقې په اندازه هر مسکين ته غَله ورکوئ (له اوسطې نه د دوو وختو طعام مراد د، سره د نُکلي ـ کتغ) ځکه چې اعلى يې (۳) وخته سره له نورو لوازمو دی، او ادنى يې يو وخته سپوره ډوډی ده).

(۲) داسې جامه ورکول دي چې په هغې سره د مسکين د بدن اکثره برخه پټه شي، مثلا کميس، يا پرتوک يا تيکری (يا هغه چې د عورت ستر راولي، او لمونځ پرې وشي).

(۳) د يوه مريي آزادول دي، (او په دغو درې واړو کې سړی مخيّر دی چې هر يو کوي).

(۴): روژه نيول دي، چې متواتر پرله پسې درې ورځې دې روژه ونيسي، د ﴿فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ﴾ د «نه مېندلو» څخه مراد دا دی، چې د نصاب خاوند نه وي، (كما في روح المعاني).

﴿وَاحْفَظُوٓا أَيْمَانَكُمْ﴾ «او ساتئ قسمونه خپل» يعنې اول خو د قسم له کولو څخه ژبه وساتئ، او که يې کله وکړئ، او په ماتولو کې يې خير نه وو، نو بيا يې له ماتولو څخه وساتئ، او که در څخه مات شو، نو بيا يې د کفارت له ترک کولو څخه وساتئ.

په بل عبارت: د قسمونو حفاظت دا دی: چې پر هرې خبرې بې له ضرورته قسم ونه خوري؛ چې دغه ښه عادت نه دی، او که قسم يې وکړ؛ نو تر مقدوره دې وساتي (که په ماتولو کې يې خير وي؛ مات دې کړي او کفاره دې ورکړي !) او که له کوم سببه يې مات کړي؛ نو کفاره دې اداء کړي، دا ګرد شيان د يمين په حفاظت کې داخل دي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِنَّمَا ٱلْخَمْرُ وَٱلْمَيْسِرُ وَٱلْأَنصَابُ وَٱلْأَزْلَٰمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ فَٱجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٩٠﴾

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !): بېشکه همدا خبره ده چې شراب او قمار او بتان او غشي (د فال، دا څلور واړه شيان) پليت دي له کار د شيطان څخه دي؛ نو ځان وساتئ تاسې له دې څخه لپاره د دې چې نجات وموميء تاسې (په دې ځان ساتلو سره).

تفسير: د «انصاب» او د «ازلام» تفسير په (۶) جزء د المائده سورت په (۳) آيت په اوله رکوع کې د ﴿وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَن تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ﴾ په ذيل کې تېر شو، له دې آيت څخه پخوا هم ځينې آيتونه د شرب الخمر (شراب څښلو) په نسبت نازل شوي وو، اول دا آيت نازل شوی وو: ﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا﴾ (۲ جزء د البقره سورت (۲۱۹) آيت (۲۷) رکوع) اګر که په دغه آيت کې هم د خمر د تحريم په لوري صريحه اشاره شته، مګر

څرنګه چې په هغه کې په صاف طور سره د خمر د پرېښودلو حکم نه وو؛ نو ځکه عمر رضي الله تعالى عنه د هغه له اورېدلو څخه وروسته وويل: «اللهم بيّن لنا بيانا شافيا»، وروسته له دې نه بل آيت راغى: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡرَبُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمۡ سُكَٰرَىٰ﴾ الآيه ـ (٥ جزء د النساء سورت (٤٣) آيت (٧) ركوع)، په دې کې هم د خمرو د تحريم تصريح نه وه، اګر که د نشې په حالت کې له لمانځه ځنې ممانعت شوى دى، او دغه قرينه وه په دې خبره باندې چې غالباً دا شى عنقريب بيخي حرام کېدونکى دى، مګر څنګه چې په عربو کې د شرابو د څښلو رواج ډېر زيات وو، او له هغو څخه دفعتاً ځان ژغورل (بچ کول) د مخاطبينو په لحاظ سهل او آسان نه وو، نو ځکه په نهايت حکيمانه ډول سره يې متدرجاً لومړى د شرابو نفرت په زړونو کې ورواچاوه، او بيا ورو ورو د تحريم له حکم سره مأنوس کړل، لکه چې عمر رضي الله تعالى عنه د دې دويم آيت له اورېدلو څخه بيا هغه الفاظ تکرار کړل چې: «اللهم بيّن لنا بيانا شافيا»، څو د (المائده) سورت دا آيتونه چې مونږ يې په تلاوت سره اوس مشرّف يو؛ له ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ﴾ څخه تر ﴿فَهَلۡ أَنتُم مُّنتَهُونَ﴾ پورې نازل شول، چې د بت پرستى په شان په دې کې په ډېر صاف او ښکاره ډول سره له دې ناولي او مردار شي څخه د اجتناب کولو هدايت راکړى شوى دى، لکه چې عمر رضي الله تعالى عنه د ﴿فَهَلۡ أَنتُم مُّنتَهُونَ﴾ له اورېدلو څخه وروسته په زوره نارې کړې: «انتهينا انتهينا يا ربنا !» او خلقو د شرابو چاتې ګاني ماتې کړې، او شرابخانې له شرابو څخه تشې شوې، د مدينې منورې په کوڅو کې لکه د باران اوبه شراب بهېدل.

إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُوقِعَ بَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ فِي ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِ وَيَصُدَّكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّنتَهُونَ ٩١

بېشكه چې همدا خبره ده؛ غواړي شيطان چې واچوي په منځ ستاسې کې عداوت (دښمني) او بغض (کينه په څښلو) د شرابو کې او (کولو د) قمار کې، او اړوي تاسې له ياده د الله او له لمانځه څخه، نو آيا يئ تاسې منع کيدونکي (اوښتونکي له دې بدو کارونو؟ بلکه واوړئ).

تفسير: کله چې د شرابو د څښلو له اثره د سړي عقل او سد (هوش) له سر څخه لاړ شي، نو ډېر ځلې شرابيان د ليونيانو په شان په خپلو منځو کې جنګونه او جګړې سره کوي، او يو له بل سره وهي، او يو له بل سره عداوتونه او عنادونه کوي، همدغه حال بلکه له دې څخه زيات د قمار (جوارى) دى، د قمار په وړلو او بايللو کې سختې جګړې، منازعې او فسادونه پېښېږي، چې د هغو په وسيله شيطان ته ښه موقع د شور ماشور اچولو لپاره په لاس ورځي، دا خو يې ظاهري خرابي شوه، باطني نقصان يې دا دى، چې د هسې شيانو په مشغولېدو سره انسان د الله تعالى له ياد او عبادت څخه بيخي غافليږي.

فائده: په دغو دواړو آيتونو کې د شرابو او قمار د حرمت تاييد او تاکيد په لس ډوله (قسمه) شوى دى:

(١) دا چې جمله يې په «انما» سره شروع فرمايلې ده، تاکيد افاده کوي.

(٢) د بت پرستى په شان يې وفرمايل.

(٣) پليت يې وبلل.

(٤) د شيطان عمل يې وباله.

(٥) د اجتناب امر يې ترې صادر کړ.

(٦) دا چې اجتناب يې د نجات سبب دى.

(٧) دا چې د بغض، عداوت، او کينې موجب دى.

(٨) دا چې د الله له ذکر او یاد څخه ګرځوونکی دی.

(٩) دا چې حصاروونکی دی له لمانځه.

(١٠) دا چې صریح امر صادر شوی دی، چې د شرابو له څښلو او قمار وهلو څخه واوړئ !.

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَاحْذَرُوا ۚ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿٩٢﴾

او ومنئ تاسې (حکم د) الله، او ومنئ تاسې (حکم د) رسول (د الله)، او وساتئ تاسې (ځان له مخالفت د دوی)، پس که وګرځېدلئ تاسې (له احکامو د دوی) نو پوه شئ ! چې بېشکه همدا خبره ده چې: پر رسول ځمونږ (محمد) هم دا رَسَونه (د پیغام) ده ښکاره (روښان په ښه وجه سره).

تفسیر: یعنې که د یوه شي ګټې او ضررونه تاسې نشئ احاطه کولی؛ نو بیا هم د الله تعالی د احکامو امتثال وکړئ، او د الهي قانون له تخلّفه ځان وساتئ ! او که مو ځانونه ترې ونه ساتل؛ نو ځمونږ رسُول الهي احکام او قوانین تاسې ته په ښکاره ډول سره در رسولي دي، د تخلّف نتیجې ته تاسې پخپله فکر وکړئ ! چې څه به کیږي؟ د هغه اضرار یقینا تاسو ته رسیدونکي دي.

لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوا وَّآمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ثُمَّ اتَّقَوا وَّآمَنُوا ثُمَّ اتَّقَوا وَّأَحْسَنُوا ۗ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿٩٣﴾

نشته پر هغو کسانو چې ایمان یې راوړی وي او کړي یې وي ښه (عملونه) هیڅ ګناه په هغه شي کې چې خوړلي دي دوی (له حرمت څخه پخوا) کله چې راتلونکو څخه ځان وساتي، او ټینګ وي په ایمان کې، او کوي ښه (عملونه)، بیا ځان ټینګ کړي (له محرّماتو) او ایمان راوړي (په تحریم د محرّماتو هم)، بیا (وروسته له هغه) پرهېز کوي (له شبهاتو هم)، او احسان کوي (له خلقو سره یا ښه کړي ګرد اعمال خپل)، او الله خوښوي نیکي کوونکي.

تفسیر: په نهایت قوي او صحیحو احادیثو کې راغلي؛ کله چې د خمر د تحریم آیتونه نازل شول، نو اصحاب کرام رضي الله تعالی عنهم سوال وکړ: «یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ! د هغو مسلمانانو احوال به څه وي، چې د تحریم له حکم څخه پخوا یې شراب څښلي، او په همغه حالت کې مړه شوي دي؟» مثلا هغه ځینې اصحاب چې شراب یې څښلي وو، او د «احد» په غزا کې شریک شوي وو، او په هغه حالت کې په شهادت ورسېدل، چې په معده کې یې شراب هم موجود وو، نو د دوی په ځواب کې دا آیت نازل شو.

د الفاظو له عموم او د نورو روایاتو له کتلو څخه د دې آیت مطلب دا دی: هغه کسان چې د ایمان او د نېک کار او صالح عمل خاوندان وي، ژوندي وي که مړه؛ هغوی ته د یوه مباح شي په خوړلو کې د اباحت په وخت کې هیڅ مضایقه نشته، خصوصا بیا هغو کسانو ته چې په عامو احوالو کې په تقوی او د ایمان په خصائلو سره متصف وي، او بیا په همدې خصائلو کې یې پرله پسې ترقي کړي وي، تر دې چې د ایمان او تقوی په مدارجو کې یې دومره ترقي کړي وي؛ چې د احسان تر مرتبې پورې رسیدلي وي.

د ایمان او یقین مراتب د قوت او ضعف په لحاظ تفاوت سره لري، له تجربو او شرعي نصوصو څخه ثابته ده، څومره چې سړی په ذکر او فکر په صالح عمل او په جهاد في سبیل الله کې ترقي وکړي، په همغه اندازه د الله تعالی خوف او زړه یې د ده د عظمت او جلال له تصوره معمور او ایمان او یقین یې مضبوط او مستحکم کیږي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَيَبْلُوَنَّكُمُ ٱللَّهُ بِشَىْءٍ مِّنَ ٱلصَّيْدِ تَنَالُهُۥٓ أَيْدِيكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ ٱللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِٱلْغَيْبِ ۚ فَمَنِ ٱعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٩٤﴾

اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى (يعنې اى مؤمنانو !) خامخا ازمويي تاسې هرو مرو (خامخا) الله په يوه شي له ښكار نه (په وخت د احرام كې)؛ چې رسيږي (ځينو د) هغو ته لاسونه ستاسې (چې واړه دي)، او (ځينو د هغو ته) نېزې ستاسې (چې غټ دي، دغه ازمېښت) لپاره د دې دى چې ښكاره (معلوم) كړي الله هغه څوك چې ويريږي له ده په غيب سره (بې له ليدلو او بېل يې كړي د ضعيف الايمان څخه)، نو هر هغه چې له حده تېرى وكړي (په كولو د ښكار په احرام كې) پس له دې (منعې له ښكاره) نو دى ده ته عذاب دردناك.

تفسير: يعنې د احرام په حالت كې د ښكار له نه كولو څخه مطلب دا دى: چې د الله تعالى له طرفه په مُطيعو او امر منونكو بندګانو دغه امتحان دى، چې دوى د احرام په حالت كې كله چې له ښكار سره مخامخ شي، او په آسانۍ سره د هغه په ويشتلو او نيولو هم قادر وي؛ نو څوك دى چې بې له ليدلو څخه له الله تعالى څخه وويريږي؟ او د هغه د حكم امتثال وكړي؟ او له اعتداء (د الهي احكامو له تجاوز كولو) څخه د الهي سزا له امله (وجې) وويريږي؟.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَقْتُلُوا۟ ٱلصَّيْدَ وَأَنتُمْ حُرُمٌ ۚ وَمَن قَتَلَهُۥ مِنكُم مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ ٱلنَّعَمِ يَحْكُمُ بِهِۦ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ هَدْيًۢا بَٰلِغَ ٱلْكَعْبَةِ أَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسَٰكِينَ أَوْ عَدْلُ ذَٰلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهِۦ ۗ عَفَا ٱللَّهُ عَمَّا سَلَفَ ۗ وَمَنْ عَادَ فَيَنتَقِمُ ٱللَّهُ مِنْهُ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴿٩٥﴾

اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى (يعنې اى مؤمنانو !) مه وژنئ تاسې ښكار حال دا چې تاسې محرمان اوسئ، او هر هغه څوك چې ووژني دا (ښكار) له تاسې څخه په قصد سره نو (پرې) بدل دى په مثل د هغه چې وژلى (يې) دى له چارپايانو څخه، چې حكم به كوي په هغه سره دوه خاوندان د عدل (انصاف) له تاسې (مسلمانانو) ځنې، په دې حال چې هغه (د بدل حيوان) د نذر په ډول (طريقې) ورسولى شي كعبې ته، يا (پرې) كفّاره ده طعام د(څو تنو) مسكينانو، يا په برابرۍ د هغه (طعام) روژه نيول دي، لپاره د دې چې وڅكي سختي د عمل خپل، عفوه كړېده الله له هغه شي چې پخوا تېر شوي دي، او هر هغه څوك چې بېرته وګرځېد (ښكار كولو ته په احرام كې) نو بدل به واخلي الله له ده څخه، او الله ښه قوي غالب دى (په انفاذ د احكامو)، څېښتن (خاوند) د بدل اخيستو دى (له مجرمينو نه).

تفسير: يعنې مه وژنئ اى مؤمنانو ! ښكار كله چې تاسې په احرام كې اوسئ ! يعنې هر هغه حيوان چې له تاسې څخه ترهېدونكى وي، غوښه يې حلاله وي او كه حرامه، بې له ټپوس، غټ كارغه (باښه)، لړم، موږك، او خوړونكي سپي، چې د دې پنځو واړو قتل په احرام كې هم روا دى، او په يو روايت كې د لړم په ځاى مار، او د سپي په ځاى لېوه راغلى دى، او هر څه چې مياشي، ورږې، كنې، شمشتۍ او مېږې دى؛ ځمونږ د حنفيانو په مذهب عفوه دى.

﴿وَمَن قَتَلَهُۥ مِنكُم مُّتَعَمِّدًا﴾ «او هر هغه څوك چې ووژني دا ښكار له تاسې په قصد سره» له دغه قصد څخه دا مطلب دى، چې خپل احرام يې په ياد وي، او په دې هم مستحضر وي، چې د احرام په حالت كې ښكار جائز نه دى، دلته يې يواځې د «متعمّد» حكم وفرمايه، چې د ده د فعل سزا دا ده، او الله تعالى كوم انتقام چې آخلي هغه بېل دى، لكه چې ﴿وَمَنْ عَادَ فَيَنتَقِمُ ٱللَّهُ مِنْهُ﴾ سره يې تنبيه وفرمايله.

﴿عَفَا اللَّهُ عَمَّا سَلَفَ﴾ «عفوه کړي بده الله له هغه شي چې پخوا تېر شوي دي»، يعنې د حکم له نزوله پخوا، يا لومړی له اسلامه د جاهليت په زمانه کې که چا داسې حرکت کړی وي؛ نو اوس الله تعالی څه سزا نه ورکوي، حال دا چې له اسلامه پخوا هم عربو د احرام په حالت کې داسې ښکار کول ډېر بد ګڼلې، نو ځکه پر هغه هم مؤاخذه نه کوي، چې هغه شی چې ستاسې په زعم سره هم په جرائمو کې داخل وو؛ د هغه ارتکاب ولې کړی شوی دی؟.

﴿وَاللَّهُ عَزِيزٌ ذُو انْتِقَامٍ﴾ او الله ښه قوي غالب دی په انفاذ د احکامو، څښتن (خاوند) د بدل اخيستو دی له مجرمينو څخه، يعنې نه کوم مجرم د ده له قبضې څخه تښتېدلی شي، او نه الله جل جلاله د عدل او حکمت په اقتضاء له هغو جرائمو ځنې چې د سزا ورکولو وړ (لائق) دي تېرېدونکی دی (مګر هغه چا ته چې اراده وفرمايي دعفو کولو).

أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ۖ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٩٦﴾

حلال کړی شوی دی تاسې ته (ای مسلمانانو) ښکار د بحر او طعام د بحر لپاره د نفع اخيستو ستاسې، او لپاره د (نورو) مسافرانو (چې وچ يې کاندي)، او حرام کړی شوی دی په تاسې ښکار د وچې څو چې اوسئ تاسې محرمان، او وويرېږئ تاسې له الله هغه چې هم ده ته به ورټول کړل شئ تاسې.

تفسير: «په احرام کې د درياب ښکار يعنې ماهۍ (کب) حلال دی، او د سيند خواړه يعنې هغه ماهي چې له اوبو ځنې بېل او مړ شوی وي، او ده هغه نه وي نيولی؛ هم حلال دی، الله تعالی وفرمايل چې: دا مو ستاسې د فائدې له امله (وچې) روا کړی دی، بيا دې څوک داسې ګومان ونه کړي، چې دا د حج په طفيل حلال شوی دی، ويې فرمايل: چې د نورو ګردو (ټولو) مسافرانو د فائدې لپاره ماهي اګر که په تالاو کې وي، هغه هم د سيند د ښکار حکم لري، دا د هغه ښکار حکم معلوم کړی شوچې په احرام کې وی (د مکې معظّمې) په لوري قصد دی، چې په هغې او د هغې په شاوخوا کې تل ښکار کول حرام دي، بلکه هلته د ښکار وېرول او تښتول هم حرام دي».

جَعَلَ اللَّهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ وَالْقَلَائِدَ ۚ

ګرځولې ده الله کعبه چې کوټه ده د بزرګۍ (او عبادت او دعزت) (باعث) د قيام (او انتظام) لپاره د خلقو، او مياشته بزرګه (هم) او مذبوحه نذر شوی کعبې ته (هم) او آمبل داره چارپايان (هم چې بيولی شي کعبې ته).

تفسير: کعبه شريفه د خلقو د ديني او دنيوي دواړو حيثيتونو د قيام او انتظام باعثه ده، حج اوعمره خو هغه عبادتونه دي؛ چې د دوی اداء مستقيما په کعبې شريفې پورې اړه (احتياج) لري، ليکن د لمانځه لپاره هم د قبلې استقبال شرط دی، په دې ډول سره کعبه شريفه د خلقو د ديني عباداتو د قيام سبب شوې ده، بيا کله چې په حج او نورو مواقعو کې له ګردو (ټولو) اسلامي ملکونو ځنې په لکونو مسلمانان هلته سره ټولېږي، نو دوی بېشماره تجارتي، سياسي، اخلاقي، مذهبي، او روحاني فوائد هم حاصلولی شي، الله تعالی دغه ځای «حرم آمن» ګرځولی دی، نو ځکه نه يوائې هلته انسانانو، بلکه نورو ساکښانو (ذي روحو) ته هم امن په برخه کېږي.

د جاهليت په زمانه کې چې ظلم او وينې تويول او فتنه او فساد خورول محض عادي او معمولي خبرو په شان وو، يوه سړي د خپل پلار په قاتل باندی هم په حرم شريف کې تعرض نشو کولی، له مادي حيثيته هر انسان د دې منظرې او نندارې له ليدلو څخه حيرانېږي، او په چرت (خيال) کې لويږي، چې په ﴿بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ﴾ کې په دومره افراط سره

د خوړلو او څښلو او د فواکهو او مېوو د نفیسو اقسامو او نورو څخه دومره زیات شیان له کومو کومو ځایونو څخه راوړل کیږي؟ دا ګرد (ټول) حیثیتونه ﴿قِيٰمًا لِّلنَّاسِ﴾ کې معتبر کېدی شي.

محققانو په نزد د ﴿قِيٰمًا لِّلنَّاسِ﴾ مطلب دا دی چې: د کعبې شریفې مبارک وجود د کل عالم د قیام او د بقاء باعث دی، د دنیا ودانتیا تر هغه وخته پورې ده، څو بیت الحرام او د ده احترام کوونکي مخلوقات موجود وي، او کله چې الله تعالی داسې اراده وفرمایي، چې دې عالَم او د هغه کارخانې ته خاتمه ورکړي؛ نو له ګردو (ټولو) کارونو څخه د مخه همدا مبارک محل چې «بیت الله شریف» ورته وایي؛ پورته کاوه شي، لکه چې د ځمکې د جوړولو په وخت کې له ګردو (ټولو) څخه د مخه همدا متبرّک محل جوړ شوی وو، ﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ﴾ الآیه.

د بخاري «رحمه الله» په حدیث کې دي، چې یو تک تور حبشي (چې د «ذو السّویقتین» په نامه یې لقب یاد کړی دی) د کعبې د عمارت یوه یوه ډبره (ګټه) به ونړوي، اما تر څو پورې چې الله تعالی د دې جهان د نظام او قوام اراده لري، هیڅ یو زورور او خورا قوي قوم هم دکعبې شریفې د انهدام په مقصد کې نشي بریالي (کامیاب) کېدی، او هیڅوک او هیڅ ملت په داسې ناپاکې ارادې له سره نشي کامیابېدی، د «أصحاب فیل» له قصې هر مسلمان خبر دی.

ذٰلِكَ لِتَعْلَمُوٓا أَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٩٧﴾

دا (تېر بیان) لپاره د دې دی چې پوه شئ تاسې چې بېشکه الله عالم دی په هر هغه شي چې دی په آسمانونو کې، او په هر هغه شي چې دی په ځمکه کې، او بېشکه الله په هر شي باندې ښه عالم دی.

تفسیر: یعنې کعبه شریفه ﴿قِيٰمًا لِّلنَّاسِ﴾ ګرځول چې په هغې کې دیني او دنیوي مصالح رعایت شوي دي، او هغه خورا (ډېره) لویه پېښګویي چې په ظاهر کې له قیاس څخه مخالفه ښکاري؛ د دې دلیل دی چې په ځمکه او آسمانونو کې هیڅ شی د پاک الله جل جلاله له علم څخه وتلی نشي.

اِعْلَمُوٓا أَنَّ اللّٰهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ وَأَنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٩٨﴾

پوه شئ چې بېشکه الله ډېر سخت دی عذاب د ده (هغه چا ته چې تل د حرامو ارتکاب کوي) او بېشکه الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډېر مهربان دی.

تفسیر: یعنې هغه حکمونه چې د احرام په حالت کې یا د کعبې شریفې د احترام او نورو په متعلق ورکړی شوي دي، که له هغوی څنې عمداً مخالفت وکړئ! نو وپوهېږئ! چې د الله تعالی عذاب ډېر سخت دی، او که په سهوې او نسیان سره تقصیر در څنې وشي، نو په کفّاره او نورو سره یې تلافي وکړئ! بېشکه چې الله جل جلاله لوی ښونکی او مهربان دی.

مَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلٰغُ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ ﴿٩٩﴾

نشته په غاړه (په ذمه) د رسول ځما مګر رسونه (د پیغام) ده، او الله عالم دی په هغه شي (هم) چې ښکاره کوئ یې تاسې او په هغه شي (هم) چې پټوئ یې تاسې.

تفسیر: رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی د قانون په ابلاغ سره خپل فرض اداء کړ، او د حق تعالی حجت په ګردو (ټولو) بندګانو تمام شوی دی، اوس هر څه او هر هغه عمل چې په ظاهر او باطن کې وکړئ! الله تعالی ته معلوم دی، د حساب او جزاء په وخت کې به یوه یوه ذره هم ستاسې په مخ کې ښکاره او در ایښوده کیږي.

قُلْ لَّا يَسْتَوِي الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيثِ ۚ فَاتَّقُوا اللَّهَ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٠٠﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) نه برابريږي خبيث (ناپاك) او طيّب (پاك) اګر كه ښه درښكاره شي تاته ډېروالى د خبيث (ناپاكه)، نو وويرېږئ ! تاسې له الله اى خاوندانو د (صافو) عقلونو لپاره د دې چې تاسې نجات وموميء .

تفسير: طيب او خبيث يو شان نه دي، (او بيخي بد له ښو سره نه برابريږي، يعنې حرام او حلال، ناپاك او پاك، كره او ناكره په اموالو كې او همداسې طالح او صالح، كافر او مسلم، كاذب او صادق په اشخاصو كې نه دي برابر، بلكه دغه حكم عام دى، او په هر څه كې جاري كيږي)، لږ شى چې طيب او حلال وي، له ډېرو خبيثو او حرامو شيانو څخه ښه او بهتر دى، عقلمند ته لازم دي، چې همېشه طيب او حلال شى اختيار كړي ! او د خرابو شيانو په لوري له سره ونه ګوري ! اګر كه ډېر زيات او خورا (ډېر) ښه هم ښكاره شي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ وَإِنْ تَسْأَلُوا عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ الْقُرْآنُ تُبْدَ لَكُمْ ۖ عَفَا اللَّهُ عَنْهَا ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٠١﴾

اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى (يعنې اى مؤمنانو !) مه كوئ تاسې پوښتنې له (هغو) شيانو كه ښكاره كړى شي تاسې ته (ځواب د هغو) (نو) خپه به كړي تاسې (هغه ځواب)، او كه پوښتنې وكړئ تاسې له (حاله) د هغو (شيانو) په داسې وخت كې چې نازل كاوه شي قرآن (يعنې وحيې راځي نو) ښكاره به كړى شي تاسې ته، عفوه كړېده الله له هغو (تېرو پوښتنو) او الله ښه بښونكى (د خطياتو) ډېر تحمل والا دى (په تأخير د عقوبت لپاره د انابت).

تفسير: په دې آيتونو كې تنبيه فرمايي چې هغو شيانو په متعلق فضول، چتې (بېكاره) او له موضوع څخه لرې سوالونه مه كوئ ! چې په هغو كې شارع تصريحا څه نه دي بيان كړي، همغسې چې د تحليل او تحريم په سلسله كې د شارع بيان د هدايت او بصيرت موجب دى؛ د هغه سكوت هم د رحمت او سهولت سبب دى، هر هغه شى چې الله تعالى په خپل حكمت او عدل سره حلال يا حرام فرمايلى دى، همغه حلال يا حرام شوى دى، او له هغه شي څخه يې چې سكوت فرمايلى دى؛ په هغه كې توسع او پراختيا شته، مجتهدانو ته د اجتهاد موقع پاتې او د هغه په فعل او ترك كې عامل آزاد دى.

په حديث كې دي چې «نبي كريم صلى الله عليه وسلم ارشاد وفرمايه چې: «اى خلقو ! الله تعالى پر تاسې حج فرض كړى دى» يوه سړي پوښتنه وكړه: «آيا په هر كال كې يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ؟» ويې فرمايل: «كه ما ويلي وى (هو !) نو د هر كال لپاره به واجبېده، او بيا به تاسې د هغه په اداء نه قادرېدئ، په هر هغه شي كې چې زه تاسې آزاد پرېږدم؛ تاسې هم له ما څخې پوښتنې مه كوئ»، په يوه حديث كې يې فرمايلي: «په مسلمانانو كې هغه سړى لوى مجرم دى، چې د ده په پوښتنې داسې يو شى حرام شوى وي؛ چې هغه حرام نه وو»، په هر حال دا آيت د شرعي احكامو په نسبت د داسې بې ضرورته او له موضوع څخه د لرې سوالونو وَرُونه بندوي.

قَدْ سَأَلَهَا قَوْمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ثُمَّ أَصْبَحُوا بِهَا كَافِرِينَ ﴿١٠٢﴾

په تحقيق پوښتنه كړېوه د داسې خبرو يو قوم پخوا له تاسې ، بيا وګرځېدل پرې كافران (منكران).

تفسير: (لکه چې ثمودیانو صالح علیه السلام ته ویلي وو: چې له کانې څخه مونږ ته اوښه راوباسه، او لکه چې بني اسرائیلو لپاره د غزا کولو له (اشموئیل) ځنې پاچا غوښتی وو، کله چې (طالوت) پاچا شو؛ نو بیا یې غزا ونه کړه، او د عیسی علیه السلام نه د ده قوم خنچه طلب کړې وه)، په صحیح حدیث کې دي، چې پخواني قومونه د سوالونو له کثرته او د خپلو انبیاوو علیهم السلام سره د اختلاف له سببه هلاک شول.

مَا جَعَلَ اللَّهُ مِنْ بَحِيرَةٍ وَلَا سَائِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ وَلَٰكِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَأَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٠٣﴾

نه دي روا کړي الله له هیڅ بحیرې او نه سائبې او نه وصیلې او نه حام، ولیکن هغه کسان چې کافران شوي دي؛ تړي پر الله دروغ (بهتان) او ډېر له دوی ځنې نه پوهیږي (په حق او باطل).

تفسير: بحیره ـ سائبه ـ وصیله ـ او حام دا ګردې (ټولې) د جاهلیت د زمانې له رسومو او شعائرو سره تعلق لري، مفسرینو د دغو په تفسیر کې ډېر اختلاف سره کړی دی، ممکن دی له دوی ځنې د هر لفظ اطلاق په مختلفو صورتونو باندې وشي.

مونږ یوائې د سعید بن المسیّب «رحمه الله» تفسیر له صحیح بخاري «رحمه الله» څخه نقلوو:

«بحیره» هغه ساکښ (ذي روح) وو چې شودې یې د بتانو په نامه کېدې، او له هغو ځنې بل هیڅا فایده نه اخیستله، «سائبه» هغه ساکښ وو چې د بتانو په نامه لکه د هندوانو «سانډ» خوشې کېده، «وصیله» هغه ښځه اوښه وه، چې پرله پسې یې څو داسې ښځی جونګې (بچي) ځیږولي وي؛ چې په منځ کې به یې یو نر جونګی (بچی) نه وو، او بیا به د بتانو په نامه خوشې ګرځېده، «حام» هغه نر اوښ وو، چې پر خاصو څو اوښو باندې به ختلی وو، او بیا به خوشې کېده).

علاوه پر دې چې دا شیان د شرک د شعائرو ځنې وو، د هغو ساکښانو (ذي روحو) غوښې او شودې او سپرلی (سورلی) او نور شیان چې الله جل جلاله حلال کړي دي، او ښایي چې خلق له هغو ځنې منتفع شي، پر هغو باندې د حل او حرمت قیود له خپل لوري ایښودل، ګواکې د خپل ځان لپاره د تشریع منصب تجویز کولو په شان وو.

د دغو مشرکینو بل لوی ظلم دا وو چې د خپل شرک رسوم یې د الله تعالی د خوښې او قربت ذریعه ګڼله، نو دغه ځواب داسې ورکړ شو، چې الله تعالی دا رسوم نه دي مقرر کړي، د دوی مشرانو په الله تعالی دا بهتان تړلی وو، چې اکثرو بې عقلانو او عامو خلقو هم هغه منلی وو، الغرض دلته یې تنبیه فرمایلې ده، همغسې چې فضول او بېکاره سوالونه او په شرعي احکامو کې تشدید او سختي پېښول جرم دی؛ له هغه ځنې زیات لا دغه جرم دی، چې بې د شارع له حکمه یوائې په خپلو آراوو او اهواوو سره د حلالو او د حرامو تجویزونه وکړئ.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ قَالُوا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ۚ أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٠٤﴾

او کله چې وویل شي دوی ته چې راشئ تاسې هغه شي ته چې نازل کړی (رالېږلی) دی الله او (راشئ) په لوري (د حکم) د رسول (د الله) نو وایي دوی: بس دی مونږ ته هغه دین چې موندلي دي مونږ پر هغه (دین) پلرونه خپل، آیا (بس دی دوی ته) اګر که وو پلرونه د دوی چې نه به پوهېدل په هیڅ شي او نه به یې لاره موندله (حق ته).

تفسير: د جاهلانو له ګردو ځنې لوی حجت همدغه دی: «هغه کار چې مونږ ته له پلرونو او نیکه ګانو ځنې راپاتې دی، آیا مونږ له هغه ځنې څرنګه مخالفت وکړو؟» نو دوی ته وروښودل شول: «که ستاسې اسلاف له بې عقلۍ یا ګمراهۍ د هلاکت په ژوره کنده کې لویدلي وي، نو آیا تاسې هم د همغو پر قدم (پله) باندې درومئ؟».

شاه صاحب لیکي: «که د پلار حال معلوم وي، چې د حق تابع او د علم خاوند وو، نو د هغه لاره دې ونیسي ! که نه (د پلار متابعت) عبث دی»، یعنې کیفما اتفق د ړندو په شان تقلید جایز نه دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡۖ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا ٱهۡتَدَيۡتُمۡۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٠٥

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) لازمه ونیسئ پر ځانونو (اصلاح او ساتنه د) ځانونو او نفسونو خپلو، هیڅ زیان نه رسوي تاسې ته (ګمراهي د) هغه چا چې ګمراه شوی دی، کله چې په سمه صافه لاره اوسئ تاسې، (خاص) طرف د الله ته بېرته ورتله ستاسې دي د ټولو، نو خبر به کړي (الله په قیامت کې) تاسې په هغو عملونو چې وئ تاسې چې کول به مو (په دنیا کې).

تفسير: یعنې که کفار د خپلو پلرونو او نیکونو له تقلیده، له دومره پنده او پوهې سره هم نه راګرځي؛ نو تاسې مه غمجن کېږئ ! زیات له دې نه خپل ځان مه ربړوئ (تکلیف کوئ) د بل چا له ګمراهۍ ځنې تاسې ته هیڅ زیان نه در رسیږي !، په دې شرط چې تاسې پر سمه لاره تګ وکړئ ! سمه لاره همدا ده چې انسان ایمان او تقوی غوره کړي، او له بدې څخه خپل ځان وژغوري (وساتي)، او د نورو د اصلاح او ژغورلو (بچ کولو) لپاره امکاني زیار (محنت) وکاږي، او کوښښ وکړي، که بیا هم خلق له بدو کارونو څخه لاس وانخلي، نو هغه هیڅ زیان نه لري.

که له دې ځنې داسې یو مطلب واخیستل شي: «کله چې یو سړی خپل لمونځونه او روژې او نور واجبات په ښه ډول (طریقه) سره اداء کړي، نو د «امر بالمعروف نهي عن المنکر» له ترکه ده ته هیڅ یو تاوان نه رسیږي؛ بیخي غلط دی»، د «اهتداء» لفظ «امر بالمعروف» او د هدایت نورو ګردو (ټولو) وظائفو لره شامل دی، او له سره نه ښایي چې یو مسلمان سړی داسې ووایي: «د بل چا ګمراهي ما ته ضرر نه رسوي»، ځکه چې دغه خو پخپله ښه خبره نه ده، چې سړی د بل له منکره مانع نشي.

اګر که په دې آیت کې د خبرې مخ د مسلمانانو په لوري دی، لیکن په هغه سره د هغو کفارو تنبیه هم مقصود ده، چې د خپلو پلرونو او نیکونو د حق له لارې ځنې کاږه شوي هم وي؛ نو بیا هم تاسې عمداً د هغوی پیروي کوئ؟ ! ولې خپل ځانونه په دغه چټې (بېکاره) متابعت سره د هلاکت په کنده کې اچوئ؟ ! اوس هغوی پرېږدئ ! او د خپلو عاقبتونو په فکر کې ولوېږئ ! او په خپلو ګټو او نقصانونو په ښه شان وپوهېږئ ! که پلرونه او نیکونه ګمراهان وي، او د دوی اولاده پر خلاف د هغوی پر سمه لاره تګ وکړي؛ نو د پلار او نیکه نه داسې مخالفت اولادې ته له سره مضر نه دی، داسې خیالات بیخي ناپوهي او جهالت دی چې: «په هیڅ یوه حال کې اولادې ته نه ښایي چې د پلار او نیکه له طریقې څخه خپل قدم چپ او مخالف کېږدي، که نه پوزه به یې پرې شي؟».

عقلمنو لره ښایي چې د انجام خیال ولري ! ځکه چې وړاندې او وروسته د الله تعالی په مخ کې ټول سره یو ځای وړاندې کېدونکي دي، او هلته به له هر چا سره خپل عمل مل وي، او خپله جزا به ومومي، او خپل کرلي به ریبي، ﴿إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا﴾ الآیه ـ «خاص طرف د الله ته بېرته ورتله ستاسې دي د ټولو، نو خبر به کړي الله په قیامت کې تاسې په هغو عملونو چې وئ تاسې کول به مو» یعنې هغه چې ګمراه پاتې شوي، او هغه چې لاره یې موندلې؛ د هغو ټولو نېک او بد عملونه او نتائج به هغو ته ورمخامخ کېږي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ شَهَٰدَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ حِينَ ٱلْوَصِيَّةِ ٱثْنَانِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ أَوْ ءَاخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُمْ إِنْ أَنتُمْ ضَرَبْتُمْ فِى ٱلْأَرْضِ فَأَصَٰبَتْكُم مُّصِيبَةُ ٱلْمَوْتِ ۚ تَحْبِسُونَهُمَا مِنۢ بَعْدِ ٱلصَّلَوٰةِ فَيُقْسِمَانِ بِٱللَّهِ إِنِ ٱرْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِى بِهِۦ ثَمَنًا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ۙ وَلَا نَكْتُمُ شَهَٰدَةَ ٱللَّهِ إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ ٱلْءَاثِمِينَ ﴿١٠٦﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) شهادت په منځ ستاسې کې کله چې حاضر شي یوه د ستاسې ته (علامې د) مرګ په وخت د وصیت کې (شهادت) د دوو تنو دی، چې دواړه خاوندان د عدل (انصاف) وي له تاسې (مسلمانانو) څخه، یا دوه تنه نور شاهدان غیر له تاسې (مسلمانانو یعنې د غیر مسلم)، که تاسې سفر مو کاوه په ځمکه کې، بیا ورسیږي تاسې ته مصیبت د مرګ (هسې دوه تنه نور) چې بندوئ به تاسې دغه دواړه وروسته له لمانځه (د مازیګر)، نو قسم دې وکړي دواړه په الله که شکمن یئ تاسې (په شهادت د دوی کې او وایي به): نه بدلوو په دې قسم سره مال اګر که وی دا (مشهود له) خاوند د خپلوی (هم) او نه پټوو مونږ شاهدي د الله، بېشکه مونږ په وخت د پټولو د شهادت کې خامخا له ګناهګارانو به یو.

تفسیر: په دې آیتونو کې یې د وصیت ډېرې ښې طریقې تلقین فرمایلې دي، یعنې که مسلمان د مړ کېدلو په وخت کې خپل مال او نور شیان بل چا ته حواله کړي، نو دا بهتره ده چې دوه معتبره مسلمانان دي پرې شاهدان ونیسي ! که مسلمانان پیدا نشي، لکه چې په سفر یا نورو مواقعو کې داسې اتفاق ولویږي؛ نو دوه کافران دې «وصي» ودرول شي !، بیا که وارثانو ته شبهه ولویږي، چې دغو کسانو به څه مال پټ کړی وي، او وارث پرې دعوی وکړي، او د دغې دعوی لپاره شاهدان ونه لري؛ نو هغه دواړه کسان دې قسم وخوري چې مونږ هیڅ نه دي پټ کړي، او مونږ د کومې طمعې او قرابت له سببه دروغ نشو ویلی، او که یې ووایو نو ګناهګار به یو.

فَإِنْ عُثِرَ عَلَىٰٓ أَنَّهُمَا ٱسْتَحَقَّآ إِثْمًا فَءَاخَرَانِ يَقُومَانِ مَقَامَهُمَا مِنَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْأَوْلَيَٰنِ فَيُقْسِمَانِ بِٱللَّهِ لَشَهَٰدَتُنَآ أَحَقُّ مِن شَهَٰدَتِهِمَا وَمَا ٱعْتَدَيْنَآ ۖ إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠٧﴾

نو که اطلاع حاصله کړه شوه پر دې چې بېشکه دا دواړه مستحق شوي دي د ګناه (د حقې خبرې د پټولو په سبب) نو نور دوه شاهدان دې ودریږي په ځای د دې دواړو (حلف ته، او که یو تن وي هم څه مضایقه نه لري) له هغو کسانو چې ثابت شوی دی پر هغو (وصیت یا شاهدي دغسې دوه تنه نور چې) قریبان وي (میت ته یا غوره وي)، نو قسم دې وکړي دا دواړه په الله چې: خامخا شاهدي ځمونږ ښه حقه (او رښتیا) ده له شاهدۍ د هغو (لومړنیو) څخه، او څه تجاوز مو نه دی کړی، بېشکه مونږ په دغه وخت (د تجاوز) کې خامخا له ظالمانو به یو.

تفسیر: یعنې که له قرائنو او آثارو ځنې د وصیانو کوم قسم (لوړه) دروغ ښکاره شي، او دوی د شرعي شهادت په ذریعه خپل صداقت ثابت نشي کړی، نو د میت وارثانو ته دې قسم ورکړی شي، چې دوی ته د وصیانو د دې دعوی د واقعیت هیڅ علم او خبر نشته، او دا چې دغه شاهدي د وصیانو له شهادت ځنې زیاته أحق بالقبول (یعنې د قبول لپاره ډېره مستحقه ده) ده.

ددې آیتونو شأن نزول دا دی: یو مسلمان چې (بُدیل) نومیده له دوو سړیو (تمیم) او (عُدیّ) سره «چې په هغه وخت کې نصرانیان وو» د تجارت په قصد (شام) ته رهي (روان) شول، کله چې (شام) ته ورسېدل؛ (بدیل) رنځور شو، او

د خپل مال فهرست (نوملیک) یې ولیکلو، او په خپلو اسبابونو کې یې کښنود، او د هغه نوملیک اطلاع یې خپلو دغو دواړو ملګرو ته ور نه کړه.

کله چې مرض یې شدت وکړ، نو ده خپلو دغو دواړو نصراني ملګرو ته وصیت وکړ، چې ځما دا ټول اسباب ځما وارثانو ته ورسوئ ! لکه چې دوی هغه ګرد (ټول) اسبابونه له ځانه سره یوړل، او د ده وارثانو ته یې وروسپارل، مګر یو د سپینو زرو جام یې (چې پرې د سرو زرو ملمع او نقش او سینګار وو) ترې ستون کړ.

کله چې د وارثانو په لاس کې هغه فهرست (چې د اسبابونو په منځ کې وو) هم ولوښد؛ دوی له هغو وصیانو ځنې پوښتنه وکړه چې: «آیا مړي د دې مالونو له منځه څه مال خرڅ کړی هم دی؟ یا یې ناروغي ډېره ځنډېدلې (اوږده شوې) او پرې دارو درمل شوي؟ او څه مال یې په معالجه کې لګېدلی دی؟» دوی د دې دواړو سوالو ځواب په نفي سره ورکړ.

آخر دا معامله د فخر کائنات رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کې تقدیم شوه، څرنګه چې له وارثانو سره شاهدان نه وو، نو هغو دې دواړو نصرانیانو ته په دې الفاظو سره قسم ورکړ، چې «مونږ د هغه مړي په مال کې هیڅ ډول خیانت نه دی کړی، او نه مو څه شی له هغه ځخه پټ کړي دي»، نو د دې قسم خوړلو له امله (وجې) د دغو وصیانو په ګټه فیصله وکړی شوه.

څه موده وروسته دا خبره څرګنده شوه، چې دوی هغه جام په یو زرګر باندې په مکه معظمه کې خرڅ کړی (پلورلی) دی، د دغې خبرې پوښتنه چې له دوی ځنې وشوه؛ نو دوی وویل چې: «هغه مو له (بدیل) ځخه په بیع اخیستی (پېرودلی) وو، کله چې د پېرودلو شاهد نه وو موجود، نو ځکه مو په هغه باندې په خپل اول اظهار کې اقرار ونه کړ، څو ځمونږ تکذیب ونه کړ شي».

د «بدیل» وارثان بیا د رسول الله مبارک په حضور مشرف شول، او خپله دعوی یې مرافعه کړه، دا ځلې د اول صورت په عکس وصیان د شراء «د پېرودلو» مدّعیان وو، او وارثانو له هغه ځنې انکار درلود (لرلو)، او د شاهدانو د نشتوالي له سببه د وارثانو له منځه هغو دوو کسانو چې لـه میت سره یـې ډېر نژدې قرابت درلـود (لرلو) قسم یاد کړ؛ «چې هغـه جـام د هغه میت مملوک وو، او دې دواړو نصرانیانـو پـه دروغـو سره قسم یاد کړی دی»، په پای (آخر) کې هغو نصرانیانو همغه قیمت (یو زر درهمه) د (بدیل) وارثانو ته ورکړې چې له زرګر ځخه یې د هغه جام په بدل کې اخیستې وې.

ذٰلِكَ أَدْنٰى أَنْ يَّأْتُوا بِالشَّهَادَةِ عَلٰى وَجْهِهَآ أَوْ يَخَافُوٓا أَنْ تُرَدَّ أَيْمَانٌ بَعْدَ أَيْمَانِهِمْ ۗ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاسْمَعُوا ۗ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿١٠٨﴾

دا (تېر حکم چې رد کول د قسم دي پر وارثانو) ډېر نژدې دی دې ته چې راتله وکړي دا (شاهدان) په شاهدۍ سره په هغه شان چې حق دی د دې، او (نژدې دی دې ته) چې وویریږي دوی له دې نه چې بېرته به رد کړل شي قسمونه (په ورثه وو) پس له قسمونو د دغو (وصیانو)، او ووېرېږئ تاسې له الله (او په دروغو قسم مه کوئ !) او واورئ تاسې (د الله احکام ـ د زړه په غوږونو سره)، او الله نه ښیي سمه صافه لاره (د خیر او د جنت) قوم فاسقانو ته.

تفسیر: یعنې که وارثانو ته شبهه پیدا شي نو د قسم ورکولو حکم ورته شته، څو د قسم له وېرې اول دروغ ونه وایي، بیا که د دوی خبرې دروغ ښکاره شي؛ نو ورته دې قسم وخوري، دا هم د دې له امله چې دوی هم په قسم کې (ټکي) ونه کړي، او وپوهیږي چې همدا قسم پر مونږ هم اوړي.

﴿وَاتَّقُوا اللَّهَ﴾ الآيه - «او ووير ېږئ تاسې له الله» ځکه چې د الله تعالى د نافرماني کوونکو انجام رسوايي او ذلت دى، او دوى د حقيقي بري او کاميابى مخ له سره نشي کتلى.

يَوْمَ يَجْمَعُ اللَّهُ الرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَا أُجِبْتُمْ ۖ

(ياد کړئ) هغه ورځ چې جمع به کړي الله ټول رسولان پس وبه وايي (الله رسولانو ته) چې څه ځواب درکړى شوى وو تاسې ته (له طرفه د امتيانو ستاسې په دنيا کې چې بلل تاسې دوى توحيد ته).

تفسير: دغه پوښتنه په محشر کې د ګردو په مخ کې له انبياوو عليهم السلام ځنې کيږي، يعنې لکه چې تاسې د حق تعالى له حق پيغام سره خلقو ته تللي وئ، نو دوى ستاسې دهغه دعوت ځواب څرنګه درکړى دى؟ او تر کومه ځايه د دعوت اجابت ته حاضر شوي دي؟.

قَالُوا لَا عِلْمَ لَنَا ۖ إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿١٠٩﴾

وبه وايي (ګرد رسولان الله ته): نشته هيڅ علم مونږ ته (ستا د علم په مخکې يا الله !) بېشکه ته چې يې هم ته يې لوى عالم په غيبو (اسرارو هم، نو بې له ويلو ځمونږ هم د دوى منل او نه منل درښکاره دي).

تفسير: د ابن عباس «رضي الله تعالى عنه» په نزد د ﴿لَا عِلْمَ لَنَا﴾ مطلب دا دى چې اى ربه ! ستا د کامل او محيط علم په مقابل کې ځمونږ هيڅ پوه او علم نشته، ګويا دا الفاظ د الله سره د ادب په ډول وايي»، د ابن جريج «رحمه الله» په نزد ﴿لَا عِلْمَ لَنَا﴾ څخه مراد دا دى، چې مونږ ته نه دى معلوم چې وروسته له مونږ ځنې هغو څه کړي؟ او څه يې نه دي کړي؟ ځکه چې مونږ يواځې د دوى په هغو افعالو او احوالو خبر ېدلو چې دوى ځمونږ په مخکې ظاهرا کول، د بواطنو او سرائرو علوم خو يواځې له تا علاّم الغُيوب سره دي.

د همدې سورت په راتلونکې (١٦) رکوع کې د مسيح عليه السلام له ژبې نه هغه ځواب چې په (١١٧) آيت کې نقل شوى دى: ﴿وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ﴾ دا وروستى معنى تاييدوي، او په صحيح حديث کې دي، کله چې په حوض باندې د ځينو په باره کې ځمونږ رسول کريم صلى الله عليه وسلم داسې وفرمايي چې: «هؤلاء أصحابي !»، نو داسې ځواب به اوري «لا تدري ما أحدثوا بعدك؟» «نه يې خبر چې له تا څخه وروسته دوى څه حرکات کړي دي».

إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِي عَلَيْكَ وَعَلَىٰ وَالِدَتِكَ ۘ

(ياد کړئ) هغه وخت چې وبه فرمايي الله: اى عيسى ځوى د مريمې ياد کړه احسان ځما پر تا او په مور ستا (چې غوره کړې مې وه پر ښځو د زمانې خپلې).

تفسير: اول پر اولاد احسان کول من وجه په مور باندې احسان دى، هغو نورو ظالمو خلقو چې پر صدّيقې بي بي مريمې تهمتونه کول، حق تعالى د دې د برائت او نزاهت لپاره عيسى عليه السلام برهان مبين وګرځاوه، او د مسيح عليه السلام له تولده پخوا او وروسته يې بي بي مريمې ته عجيبې او غريبې نښې ورښکاره کړې، چې ګردې د دوى د تقويې او تسکين باعث شوي دي، دغه احسانات بلا واسطه پر دى باندې وو.

إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ الْقُدُسِ تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ بِإِذْنِي فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِي وَتُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ بِإِذْنِي وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتَىٰ بِإِذْنِي

کله چې مې قوت درکړی وو تاته (ای عیسی) په روح القدس (جبریل) سره، چې خبرې به دې کولې له خلقو سره په مهد (د مور په غېږ یا په ځانګو یا په طفولیت) کې او په حال د کهولت (پوره عمر) کې، او کله چې مې در زده کړ تاته کتاب (لیکل) او حکمت (د شرعي احکامو د ژورو خبرو علم) او تورات او انجیل، او کله چې جوړه به دې کړله له خټو ځنې په مثل د صورت د مارغه په اذن (حکم) ځما، پس پوکول به دې په هغه صورت کې؛ پس شو به هغه (هیئت) مارغه په اذن (حکم) ځما، او روغول به دې مورزادي ړوند او برګ (پیس) په اذن (حکم) ځما، او کله چې را ایستل به دې مړي (له قبرونو څخه او ژوندي کول به دې) په اذن (حکم) ځما.

تفسیر: تعجب دی چې عیسایان د مسیح علیه السلام د «تکلم في المهد» هیڅ ذکر نه دی کړی، هو ! دا یې لیکلي دي چې مسیح علیه السلام په دولس کلنی کې د یهودانو په مخ کې داسې حکیمانه دلائل او براهین بیان فرمایلي دي؛ چې ګرد علماء ترې عاجز او مبهوت پاتې شوي دي، او سامعینو په شاباس او آفرین ویلو باندې پیل (شروع) وکړ، همسې خو په «روح القدس» سره حسب المراتب ذکر د انبیاوو علیهم السلام بلکه د ځینو مؤمنانو تأیید هم کیږي، لیکن عیسی علیه السلام ته چې وجود یې د «جبرئیلیه نفخې» څخه شوی دی، کوم خاص قسم فطري مناسبت او تایید حاصل دی؛ چې هغه د انبیاوو د تفضیل په صدد کې بیان شوی دی: ﴿تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ اللَّهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ﴾ (د ۳ جزء ابتداء د البقره سورت د ۲۵۳ آیت ۳۳ رکوع).

له هر رسول سره د الله تعالی څه امتیازي معاملې وي، چې د هغو د عللو او اسرارو احاطه همغه علاّم الغُیوب سره وي، همدغو امتیازاتو ته د علماوو په اصطلاح «جزئي فضائل» ویل کیږي، له داسې شیانو ځنې کلي فضایل نه ثابتیږي، څه چې ترې «الوهیت» ثابت شي !.

په ﴿وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ﴾ کې د «خلق» لفظ محض په صوري او حسّي لحاظ استعمال کړی شوی دی، که نه حقیقي خالق خو له ﴿أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ﴾ ځنې ما سوا بل هیڅوک نه دي، د همدې له امله د ﴿بِإِذْنِي﴾ تکرار څو څو ځلې راغلی دی، او په «آل عمران» کې د مسیح علیه السلام له ژبې د ﴿بِإِذْنِ اللَّهِ﴾ تکرار کړی شوی دی، په هر حال هغه خوارق چې په دې آیتونو او د دې نه پخوا په «آل عمران سورت» کې مسیح علیه السلام ته منسوب شوي دي؛ له هغو ځنې انکار یا پکې تحریف یواځې د همغه ملحد کار کېدی شي، چې «آیات الله» د خپل شخصي عقل تابع ګرځول غواړي، باقي همغه خلق چې د قدرت په قانون نامه سره د «خوارقو او معجزاتو» څخه انکار کوي؛ د هغه ځواب په یوه مستقل مضمون کې ورکړی شوی دی، چې د هغه له مطالعې څخه ان شآء الله د ټولو شکونو او شبهاتو ازاله کېدی شي.

وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَنكَ إِذْ جِئْتَهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٠﴾

او کله چې مې بند کړ (شر د) بني اسرائیل له تا نه (ای عیسی چې ستا د قتل اختیار یې کړی وو) کله چې راوړی وو تا دوی ته واضح دلائل نو وویل هغو کسانو چې کافران شوي وو له دوي ځنې: چې نه دي دغه معجزې ستا مګر سحر دی ښکاره (هر چا ته).

تفسير: معجزاتو او فوق العاده تصرفاتو ته به يې سحر جادو (کوډې) ويلې، او په پاى (آخر) کې يې د مسيح عليه السلام وژلو ته ملا وتړله، حق تعالى په خپل لطف او کرم سره مسيح عليه السلام آسمان ته وخېژاوه، به دې ډول يهودان د خپل ناپاک مقصد په پاى (آخر) ته رسولو کې ناکام شول.

وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّينَ أَنْ آمِنُوا بِي وَبِرَسُولِي ۖ قَالُوا آمَنَّا وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ ﴿١١١﴾
إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَنْ يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَائِدَةً
مِنَ السَّمَاءِ ۖ قَالَ اتَّقُوا اللَّهَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿١١٢﴾

او کله چې په زړونو کې مې ور واچول (او امر مې وکړ د عيسى په ژبه قوم د عيسى) حواريونو ته چې ايمان راوړئ تاسې په ما (چې ستاسې الله يم)، او په رسول ځما (چې عيسى دى، نو) وويل حواريونو چې: ايمان مو راوړى دى (په الله او عيسى)، او شاهد اوسه (اى عيسى) په دې چې بېشکه مونږ مسلمانان يو (غاړه ايښودونکي حکم د الله ته). کله چې وويل حواريونو چې اى عيسى ځوى د مريمې ! آيا قبلوي رب ستا (دا سوال) چې نازلې کړي پر مونږ ډکې خونچې له (طرفه د) آسمانه، وويل (عيسى): ووير ېږئ له الله (په داسې سوالونو کې) که يئ تاسې مؤمنان (په قدرت د الله او نبوت ځما).

تفسير: ﴿يَسْتَطِيعُ﴾ يې ځکه وويل؛ چې ستا په رعايت او دعاء مونږ ته د «خرق عادت» په ډول نه دى معلوم چې داسې کولى شي؟ که نشي کولى؟.

﴿مَائِدَةً مِنَ السَّمَاءِ﴾ «ډکې خونچې له طرفه د آسمانه» يعنې د آسمان له لورې بې له زحمته روزي راورسيږي، دا ضروري نه ده چې هغه دې فقط د جنت له دستر خوان څخه وي.

﴿قَالَ اتَّقُوا اللَّهَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ﴾ «وويل عيسى: چې ووير ېږئ له الله په داسې سوالونو کې که يئ تاسې مؤمنان په قدرت د الله او نبوت ځما»، ايمانداره بنده ته دا لايقه نه ده، چې داسې فوق العاده غوښتنې وکړي، او پاک الله وازمايي، اګر که د ده له لورې د ډېرې زياتې مهربانۍ اظهار هم وشي، ښايي چې روزي په همغو ذرائعو سره وغوښتله شي، چې د الله له خوا د هغه د تحصيل لپاره مقررې شوې دي، کله چې بنده له الله تعالى ځنې ووير ېږي او تقوى اختيار کړي، او يوائې په الله تعالى باندې اعتماد او اعتقاد ولري، نو حق تعالى ده ته له داسې ځايه روزي ور رسوي، چې له هغه ځايه ئې وهم او ګمان هم نه وي:

﴿وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا ۝ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾ الآيه ـ (٢٨ جزء د الطلاق سورت (٢ او ٣) آيت (١) رکوع).

قَالُوا نُرِيدُ أَنْ نَأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُنَا وَنَعْلَمَ أَنْ قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُونَ عَلَيْهَا مِنَ الشَّاهِدِينَ ﴿١١٣﴾

وويل (حواريونو): اراده لرو مونږ (په دغه سوال سره) چې وخورو له (خوړو د) دغې (خونچې) او مطمئن شي (په دغه خوراک سره) زړونه ځمونږ، او پوه شو مونږ په دې چې په تحقيق رښتيا ويلي وو تا مونږ ته (چې زه رسول الله يم د دې معجزې په اظهار سره) او اوسو مونږ پر دې (خونچې) له شاهدانو ځنې (هغوى ته چې غائبان دي يا له کتونکو).

تفسير: يعنې د ازموينې لپاره يې نه غواړو، بلکه د برکت په اميد يې غواړو چې له غيبه بې محنته روزي راورسيږي، څو د زړه په اطمينان او ډاډينه سره د الله تعالى په عبادت کې لګيا شو.

(نو کله چې معلوم شو چې دغه سوال د حواریونو د تعنّت او سرکشۍ له پلوه نه دی، بلکه د یقین د زیاتوالي لپاره دی نو)؛

قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا أَنْزِلْ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِنَ السَّمَاءِ تَكُونُ لَنَا عِيدًا لِأَوَّلِنَا وَآخِرِنَا وَآيَةً مِنْكَ ۖ وَارْزُقْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿١١٤﴾

وویل عیسی ځوی د مریمې ای الله ! ربه ځمونږ را نازله (را ښکته) کړه پر مونږ باندې ډکه خونچه له (طرفه د) آسمانه چې شي (وخت د نزول د دغې ډکې خونچې) مونږ ته اختر لپاره د لومړنیو ځمونږ او وروستنیو ځمونږ او (بل دا چې شي دغه خونچه) دلیل له تا نه (ستا په قدرت او ځما په نبوت او صداقت)، او روزي راکړه مونږ ته، او هم ته یې (خیر) غوره د روزي ورکوونکو.

تفسیر: یعنې هغه ورځ (چې مائده له آسمانه پکې نازله شي) ځمونږ د پخوانیو او وورستنیو په حق کې به اختر شي، چې تل ځمونږ قوم هغه ورځ د یادګار په ډول اختر وګرځوي، له دې تقریر سره سم د ﴿تَكُونُ لَنَا عِيدًا﴾ اطلاق داسې شو لکه چې د ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ﴾ د آیت په متعلق په (بخاري) شریف کې د یهودانو دغه مقوله نقل شوې ده «إنکم تقرؤون آیة لو نزلت فینا لاتخذناها عیدا» همغسې چې ددې آیت له اختر ګرځولو ځنې مطلب د هغه آیت د «یوم النزول» عید ګرځول دي (کما هو مصرّح في الروایات الأُخر) پر همدې باندې د مائدې اختر هم قیاس کړئ.

قَالَ اللَّهُ إِنِّي مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ ۖ فَمَنْ يَكْفُرْ بَعْدُ مِنْكُمْ فَإِنِّي أُعَذِّبُهُ عَذَابًا لَا أُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ ﴿١١٥﴾

وفرمایل الله: زه نازل کوونکی یم د دې خونچې پر تاسو، نو هر څوک چې ناشکري وکړي وروسته (له نزوله د دې خونچې) له تاسې ځنې؛ نو بېشکه زه عذاب ورکوم هغه ته داسې عذاب چې نه په عذابوم په هغه سره بل هیڅ یو له (نورو) مخلوقاتو.

تفسیر: هر کله چې نعمت فوق العاده او عجیبه وي، نو د هغه د شکر ګذارۍ تاکید هم ښایي چې له معمول ځنې زیات وي، او د هغه په نا شکرۍ هم فوق العاده او عجیبه عذاب راتلونکی.

ځینې وایي: چې هغه مائده تر (۴۰) ورځو پورې نازلېده، خو ځینو پرې نا شُکري وکړه، یعنې داسې حکم شوی وو، چې له هغې ځنې فقیر او مریض وخوري، خو له هغې ځنې مړو، روغو رمټو سړیو هم خوړله، بیا نژدې اتیا تنه له دوی ځنې بیزوګان او بد ځناوران شول، دا عذاب پخوا له دې نه پر یهودانو هم نازل شوی وو، وروسته له هغه بیا پر بل چا نه دی نازل شوی.

او ځینې وایي چې: دوی د دې تهدید له اورېدلو ځنې وویرېدل او د هغې له غوښتنې څخه پښېمانه شول، او ویې نه غوښتله.

وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِنْ دُونِ اللَّهِ ۖ قَالَ سُبْحَانَكَ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ ۚ إِنْ كُنْتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ ۚ تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلَا أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ ۚ إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿١١٦﴾

او کله چې وویل الله: ای عیسی ځوی د مریمې ! آیا تا ویلي وو خلقو ته چې ونیسئ ما او مور ځما (دواړه) معبودان بې له الله نه ؟، وبه وایي (عیسی): چې پاکې ده تا لره (ای الله ! له شریکه)، نه ده

لايقه ما ته دا چې ووايم زه هغه خبره چې نشته ما ته حق (د ويلو د هغې)، که وم زه چې ويلي مې وي دا خبره؛ نو په تحقيق معلومه به وه تاته هغه خبره، تا ته معلوم دی هر هغه شی چې په نفس ځما کې دی، او نه پوهېږمه زه په هغه شي چې په نفس ستا کې دی (له معلوماتو ستا)، بېشکه ته همدا ته يې لوی عالم پر غيبو (اسرارو هم).

مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَا أَمَرْتَنِي بِهِ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ ۚ وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَّا دُمْتُ فِيهِمْ ۖ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ أَنْتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ ۚ وَأَنْتَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿١١٧﴾

نه دي ويلي ما دوی ته (هيڅ شی) مګر هغه چې تا امر (حکم) کړی وو ماته په هغه سره، چې عبادت کوئ تاسې د الله؛ د رب ځما او رب ستاسې، او ومه زه (پر اقوالو او افعالو) د دوی باندې خبردار (څارونکی په موعظو سره) تر څو چې ومه زه په دوی کې، پس کله چې ونيولم تا زه کامل (په بيولو سره آسمان ته) نو وې ته همدا ته څارونکی (خبردار) پر دوی، او ته پر هر شي باندې ښه ګواه ښه خبردار يې.

تفسير: ما ستا له حکمه د يوه ويښته په اندازه هم تجاوز نه دی کړی، ما به ولې د خپل الوهيت تعليم دوی ته کاوه؟ ! بالمقابل ما تش ستا د بندګۍ په لوري هغوی ته دعوت ورکاوه، او په صافو او ښکاره خبرو سره مې دوی ته د وحدانيت داسې ښوونه کوله چې: زما او ستاسې د ګردو رب (پالونکی) همغه يو الله تعالی دی چې «وحده لا شريک له» او يوائې د معبوديت وړ (لايق) دی.

لکه چې نن هم په (انجيل، بايبل) کې په دې مضمون ډېر صريح نصوص شته، نه يوائې دا چې ما مخلوق ته ستا په لوري د توحيد او عبوديت دعوت ورکړی دی، بلکه تر هغه پورې چې زه د دوی په منځ کې اوسېدم؛ د دوی د احوالو کتنه او پوښتنه مې په ښه شان سره کړې ده، څو کومه غلطه عقيده، يا بې موقعه خيال قائم نه کړي، کله چې د دوی په منځ کې ځما د قيام هغه موده چې ستا په علم کې مقدّره وه؛ پوره شوه، نو زه دې له دوی ځنې واخيستم (كما يظهر من مادة التوفي ومقابلة ما دمت فيهم)، نو بيا يوائې ته د دغه احوال کتونکی او خبردار يې، زه د دې موضوع په نسبت هيڅ عرض نشم کولی.

تنبيه: د مسيح عليه السلام د موت (يا رفع الی السّماء) او نور بحث دې په (٣ جزء د «آل عمران» سورت په (٥٥) آيت ﴿إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ﴾ (٦) رکوع) کې وکتل شي.

محقق شيخ الهند قدّس الله سرّه دلته د «فلما توفّيتني» ترجمه «تا زه واخيستلم» سره کړې ده، چې د محاورې په اعتبار «په موت» او په «رفع الی السماء» دواړو باندې صادقېدی شي، ګواکې تنبيه يې وکړه چې نه د «توفّی» لفظ لپاره «موت» لازم دی، او نه خاص هغه «توفّي» چې د موت په صورت دی؛ په دغه تر بحث لاندې مباحثه کې څه مداخله لري.

إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۖ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١١٨﴾

که عذاب ورکړې ته (ای الله !) دوی ته نو بېشکه دوی ستا بندګان ستا دي (او ته يې مالک يې نو نشته هيڅ اعتراض پر تاسې)، او که بخښنه وکړې دوی ته نو بېشکه ته همدا ته يې ښه غالب (په انفاذ د احکامو) لوی حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوې).

تفسير: يعني ته په خپلو بندګانو ظلم او بېځايه سختي نه کوې، که دوی ته سزا ورکړې نو په عين عدل او حکمت بنا ده، او که فرضاً دوی وبښې؛ نو دغه عفوه هم عين لطف او مهرباني ده، او د عجز او سفاهت له کبله نه ده، ځکه چې ته «عزيز» زبردست او غالب يې !، او هيڅ کوم مجرم ستا له قبضې څخه نه وتلی او نه تښتېدلی شي، او ته په هر چا او هر ځای قوت، قدرت، او قابو لرې، او ځرنګه چې «حکيم» حکمت والا يې؛ نو دا هم هيڅېرې امکان نه لري چې کوم مجرم به بې موقع خوشې کړې، په هر حال هر هغه فيصله چې ته دمجرمانو په حق کې وفرمايې؛ هغه بيخي ستا په حکمت او قدرت مبني ده.

ځرنګه چې د مسيح عليه السلام دا کلام به په محشر کې ويل کيږي، چې هلته به دکفّارو په حق کې هيڅ کوم شفاعت او استرحام او نور شيان نه وي، نو ځکه مسيح عليه السلام د «عزيز حکيم» په ځای «غفور رحيم» او نورو صفاتو اختيار ونه کړ، د دې په خلاف ابراهيم عليه السلام په دنيا کې د خپل پروردګار په حضور کې عرض کړی وو: ﴿رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ ۖ فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي ۖ وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ «ای پروردګاره ! دې بتانو ډېر خلق ګمراهان کړي دي، نو هر يو له دوی ځنې چې ځما متابعت وکړي؛ هغه ځما امت دی، او هر څوک چې له ما ځنې غاړه وغړوي؛ نو بيا ته غفور او رحيم يې»، يعني اوس هم موقع ده، چې ته هغوی ته په خپل رحمت سره وروسته له دې نه د توبې او د رجوع الی الحق توفيق وروبښې ! او پخواني ګناهونه ورمعاف کړې !.

قَالَ اللَّهُ هَٰذَا يَوْمُ يَنفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ ۚ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١١٩﴾

وبه فرمايي الله (په قيامت کې): دا ورځ د دې ده چې نفع به رسوي صادقينو ته صدق د دوی (چې په دنيا کې يې کړی وي)، (مقرر) دي دوی ته (هسې) جنتونه چې بهيږي له لاندې (د ونو او مانيو) د هغو ويالې (د اوبو، شودو، شرابو، او شاتو)، تل به وي دوی په هغه کې هميشه، راضي شوی دی الله له دوی نه (په طاعت سره)، او راضي دي دوی له الله څخه (په موندلو د ثواب)، دا (خلود او رضوان) بری دی ډېر لوی.

تفسير: يعني هغه کسان چې اعتقاداً او قولاً او عملاً رښتين او صادقان پاتې دي، لکه مسيح عليه السلام هغوی ته به د دوی د صداقت ثمره نن ورځ وررسيږي (چې هغه د جنت خلود او د رب العزت لقاء او رضا ده، اللهم ارزقنا !)، يعني لويه کاميابي د الله تعالی رضا ده، او جنت هم د دې له امله (وجې) مطلوب دی؛ چې د الله تعالی د رضا محل دی.

لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا فِيهِنَّ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٢٠﴾

خاص الله لره دی ملک (سلطنت) د آسمانونو او (سلطنت د) ځمکې او (سلطنت) د هغو شيانو چې په دوی کې دي، او الله پر هر شي باندې ښه قادر دی (چې ځينې يې صادق ته ثواب او کاذب ته عذاب ورکول دي).

تفسير: يعني له هر وفادار او مجرم سره همغه معامله کيږي؛ چې د يوه مطلق شاهنشاه له عظمته او جلاله سره وړ (لائق) او مناسب وي.

تمت سورة المائدة بفضل من به الإعاذة وإليه الإعادة ونسأله فی البيان حسن الإفادة والإجادة وفی البنان نعم الإفارة والإنارة.

سُورَةُ الأَنعَامِ

د «الأنعام» سورت مکي دی، په استثناء د نهو آیتونو چې د ځینو علماوو په نزد مدني دي، او هغه (۲۰، ۲۳، ۹۱، ۹۳، ۱۱۴، ۱۴۱، ۱۵۱، ۱۵۲، ۱۵۳) دي، یو سل او پنځه شپېته آیتونه او شل رکوع لري.

وروسته د «الحجر» له سورته نازل شوی دی، په تلاوت کې (۶) سورت دی، او په نزول کې (۵۵) دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَجَعَلَ الظُّلُمَاتِ وَالنُّورَ ۖ ثُمَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ ①

ټولې (ټولې) ثناوې او ستاینې (د کمال صفتونه) خاص هغه الله لره دي، چې پیدا کړي یې دي آسمانونه (بې له نمونې) او ځمکه (بې له مادې) او پیدا کړي یې دي (رنګارنګ) تیارې او رڼا، بیا (هم) هغه کسان چې کافران شوي دي؛ د رب خپل سره برابروي (نور شیان په عبادت کې یا د الله له عبادت څخه د غیر الله عبادت ته عُدول کوي).

تفسیر: مجوسیان دنیا ته دوه خالقان معبودان دروي، «یزدان» یې د خیر خالق او «اهریمن» چې د شر خالق یې ګڼي، او دواړه به یې د نور او ظلمت په لقب سره ملقبول، د (هندوستان) مشرکان په درې ډېرش کروړو معبودانو قائلان دي، (چې هر یو خپل بت معبود بولي)، د (اریه سماج) فرقه سره له دې چې د توحید ادعا کوي، «ماده» او «روح» هم لکه الله غوندې غیر مخلوق او ازلي بولي، او الله تعالی د تکوین او تخلیق او په څه نورو صفاتو کې دې دواړو ته (نستغفر الله) محتاج ګڼي.

عیسایان د پلار او ځوی د توازن او تناسب لپاره بالآخره د دریو نه یو، او یو له دریو نه مشهوره عقیده غوره کړه.

یهودانو د الله تعالی لپاره داسې صفات تجویز کړل، چې یو عادي انسان هم نه یوائې (العیاذ بالله) له هغه سره انډول او برابر بلکه بهتر هم کېدی شي.

د عربو مشرکانو د معبودانو په تقسیم کې تر دې ځایه پورې خپل سخاوت وښود، چې ښایي د دوی په نزد د یوه غره هره یوه ډبره (ګټه) هم د انسانانو د معبود ګرځېدلو صلاحیت ولري، او هر یوه موجود ته یې له الوهیت ځنې څه نا څه برخه ورکړه، او د عبادت او استعانت او په نورو وختونو کې به دوی د الله په ځای هغوی درول.

حال دا چې د الله تعالی پاک ذات د ګردو (ټولو) کمالي صفاتو د جامعیت شتوالی او د هر راز ښېګڼو (فائدو) د خالقیت له امله (وجې) د ګردو (ټولو) ستاینو (صفتونو) او هر راز حمد او ثنا بې د نورو له شرکته وړ (لایق) او مستحق دی، هغه لوی (ذات عمّ نواله) چې آسمانونه او ځمکې، یعنې ګرد هغه علویّات او سفلیّات یې پیدا کړل (چې د ګردو عالمیانو عقول د هغو له احاطې څخه عاجز دي)؛ شپه او ورځ، تیاره او رڼا، هدایت او ضلالت، موت او حیات.

لنډه یې دا چې ګرد متقابل کیفیات او متضادّ احوال یې ظاهر وفرمایل، او ده ته د ده په ګردو افعالو کې د هیڅ یوه یار، مددګار، حصه دار، ښځې، اولاد او د نورو ضرورت نشته، د ده په معبودیت او الوهیت کې هیڅوک ورسره

شريکښدی نشي، او په ربوبيت کې هيڅوک د ده پر اراده غالبښدی نه شي، او په ده د هيڅا قوت او زور چلښدی نشي.

بيا د تعجب ځای دی، چې د دغو حقائقو له ليدلو او پوهښدلو ځخه وروسته بيا هم دوی په څه ډول نورو شيانو ته د الوهيت مرتبه ورکوي؟ او د دوی په عبادت کې مشغوليږي؟ (يا د دغه خالق الکل او مالك الکل له وجوده بيخي منکران کيږي).

هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن طِينٍ ثُمَّ قَضَىٰ أَجَلًا وَأَجَلٌ مُّسَمًّى عِندَهُ ثُمَّ أَنتُمْ تَمْتَرُونَ ﴿٢﴾

دغه (الله)هغه ذات دی چې پيدا کړي يې تاسې له خټو (چې آدم يې ترې ساز کړ) پس له هغه مقرر کړی يې دی يو وخت (لپاره د مړ ځ)، او يوه موده معلومه (د قيامت) ده په نزد د الله، بيا هم تاسې شك کوئ (په توحيد او بعث کې).

تفسير: پاس د «عالم کبير» يعنې د جهان دپيدايښت ذکر وو، دلته د «عالم صغير» يعنې د انسان د خلقت بيان فرمايي، چې وګورئ اول د بې ساه خاورې څخه يې د آدم عليه السلام کالبوت تيار کړ، او په څه ډول يې ژوندی کړ، او په څه انساني کمالاتو يې فائض کړ، او نن ورځ هم له دې خاورې ځنې ګرد خواړه وځي، او له غذا ځنې نطفه او له نطفې ځنې انسان جوړيږي.

غرض دا چې په دې ډول يې له عدم ځنې تاسې په وجود راوړي يئ، بيا يې د هر سړي د مړ ځ لپاره يو وخت مقرر کړ، کله چې انسان بيا په خاورو کې خښ او بيا له هغې سره ګډيږي چې ترې پيدا شوی وو، نو په همدې باندې تاسې قياس کولی شئ چې د «عالم کبير» فنا ته هم يو وخت مقرر دی، چې هغه ته «قيامت کبری» وايي، «قيامت صغری» يعنې ځانګړي او انفرادي مړ ځونه څنګه چې مونږ ته تل راځي؛ نو د هغه علم هم خلقو ته نه وي، ليکن د «قيامت کبری» د صحيح او برابر وخت علم يواځې پاك الله ته دی، نو تعجب دی چې د «عالم صغير» يعنې د انسانانو د بقا او فنا د سلسلې له ليدلو سره سره بيا هم چې انسان د «عالم الکبير» په فناء کې څرنګه تردد کوي؟.

وَهُوَ اللَّهُ فِي السَّمَاوَاتِ وَفِي الْأَرْضِ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ ﴿٣﴾

او همدی دی الله (مستحق د عبادت) په آسمانونو کې او په ځمکه کې، عالم دی الله په پټ (حال) ستاسې، او (عالم دی الله) په ښکاره (حال) ستاسې، او عالم دی الله په هغو (اعمالو) چې کوئ (يې) تاسې.

تفسير: يعنې په ګردو (ټولو) آسمانونو کې يواځې همغه بر حق معبود، مالك، پاچا، متصرف او مدبر دی، او دغه مبارك نوم (الله) هم يواځې د همغه متعالي الصفاتو د ذات لپاره مخصوص دی، بيا نو نورو ته د معبوديت استحقاق له کومه راغی؟.

څنګه چې په ځمکه او آسمانونو کې د همغه حکومت دی، او همغه بلا واسطه په ټولو ظاهرو او باطنو شيانو په پټو او په ښکاره، وړوکو او لويو عملونو مطلع دی، نو عابد ته هيڅ ضرورت نشته، چې په خپلو عباداتو او استعاناتو او په نورو کې غير الله شريك وګرځوئ، مشرکانو به چې داسې ويل: ﴿مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ﴾ «مونږ عبادت نه کوو بتانو ته، مګر کوو يې د دې لپاره چې نژدې کړي مونږ الله ته په نژديوالي سره»، دغه د دوی او د دوی د نورو ملګرو ځواب شو.

او ړومبی په «أجل مسمّى» سره د قيامت په لوري اشاره وه، دلته يې د مجازاتو په سلسله تنبيه وفرمايله، چې په ځمکه او آسمان کې ځمونږ حکومت دی، او ستاسې ګرد (ټول) پټ او ښکاره، نېك او بد عملونه ځمونږ په علم کې شته، بيا نو هيڅ وجه نشته چې تاسې همداسې چټې (بېکاره) او مهمل پرېښودی شئ.

وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ آيَةٍ مِّنْ آيَاتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٤﴾ فَقَدْ كَذَّبُوا بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ فَسَوْفَ يَأْتِيهِمْ أَنبَاءُ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٥﴾

او نه راځي دې (کفارو) ته هیڅ کوم (تکویني یا تنزیلي آیت) له آیتونو د رب د دوی مګر وي دوی له هغه څخه مخ ګرځوونکي (تغافل کوونکي). نو په تحقیق نسبت د دروغو وکړ دوی حق ته کله چې راغی دوی ته، نو ژر به راشي (ظاهر به شي) دوی ته اخبار (حقیقت) د هغه شي چې وو دوی چې پرې خندل به یې.

تفسیر: له حق څخه غالباً «قرآن کریم» مراد دی، چې د هغو کسانو بد انجامی او دنیوي او اخروي سزاوې بیانوي، چې له دلائلو ځنې تغافل او تجاهل کوي، او هر کله چې هغه اوري؛ ترې اعراض او انکار کوي، او تکذیب او استهزاء پرې کوي، او داسې ښکاروي چې په هغو خبرو چې تاسې خاندئ او تمسخر پرې کوئ ـ هغه به ډېر ژر یو ثابت حقیقت وګرځي، او تاسې ته به په مخه درشي، وروسته له دې نه د هغو اقوامو احوال وربیانوي، چې د آیات الله د تکذیب او استهزاء او بدو عملو په سبب هلاک شوي دي.

أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّن قَرْنٍ مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّن لَّكُمْ وَأَرْسَلْنَا السَّمَاءَ عَلَيْهِم مِّدْرَارًا وَجَعَلْنَا الْأَنْهَارَ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمْ فَأَهْلَكْنَاهُم بِذُنُوبِهِمْ وَأَنشَأْنَا مِن بَعْدِهِمْ قَرْنًا آخَرِينَ ﴿٦﴾

آیا نه دي کتلي (نه دي خبر شوي) دوی چې څومره (ډېر) هلاک کړي دي مونږ پخوا له دی نه له (نورو امتونو) قرنونو ځنې، چې ښه قوت ورکړی وو مونږ دوی ته په ځمکه کې، دومره قوت چې نه مو دی درکړی تاسې ته، او راښکته کړی وو مونږ باران پر دوی پرله پسې ورېدونکی، او ګرځولې مو وې ویالې چې بهېدلې له لاندې د (مانیو او ونو د) دوی، نو هلاک کړل مونږ دوی په سبب د ګناهونو د دوی، او پیدا کړل مونږ وروسته له دوی نه (اهل) د قرن نور.

تفسیر: یعنې عاد او ثمود چې هغوی ته ستاسې په نسبت ډېر طاقت، زور، قوت او قدرت ورکړی شوی وو، او د عیش او خوشالی په دوره کې یې ډېر ښه ژوندون درلود (لرلو)، کله چې دوی بغاوت او تکذیب ته ملاوې وترلې؛ نو مونږ دوی د هغو جرمونو په سزا داسې سخت ونیول، چې نوم او نښان یې هم نه دی پاتې، وروسته له دوی نه مو نور امتونه پیدا کړل، او له متکبرانو او مکذبانو سره مو هم دغه سلسله جاري کړه.

«قرن» د یوې زمانې اهل ته ویلی شي، چې د هغه په تحدید او تعیین کې ډېر اقوال دي، ځنې (۱۲) ځینې (۲۰) ځینې (۳۰) ځینې (۷۰) ځینې (۸۰) ځینې (۱۲۰) کلونو ته قرن وایي، خو په أصح الأقوال کې قرن د عمرونو له هغه متوسطه قدر او مشترک حد څخه عبارت دی، چې زیاتره د یوې زمانې اهل پکې ژوندون کوي، یا هغومره موده چې د یوه کال د ځېګدلو ځنې پکې یو تن هم ژوندی پاتې نشي، او ګرد (ټول) سره ومري، خو اوسني پوهان سلو کلونو ته بالقطع قرن وایي.

وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَابًا فِي قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ لَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧﴾

او که نازل کړی وی مونږ پر تا کتاب (لیکلی) پر کاغذ، پس مَس کړی وی دوی دا کتاب په لاسونو خپلو (او په سترګو یې هم لیدلی وی)؛ نو خامخا ویلي به وو هغو کسانو چې کافران شوي دي، چې نه دی دا مګر خو سحر (کوډې) دي ښکاره.

تفسير: د مکې معظّمې ځينو مشرکانو ويلي وو: «که محمد صلى الله عليه وسلم يو تيار ليکلی شوی کتاب له آسمانه راوړي، چې څلور پرښتې هم ورسره وي، او ځمونږ په مخ کې شاهدي اداء کړي، چې بېشکه هم دا کتاب د الله تعالى له لوري ليږلی شوی دی؛ نو مونږ به ايمان راوړو»، د هغو ځواب داسې ورکوي، هغه خلق چې په موجوده حالت کې دي، لوی قرآن ته سحر، جادو او کوډې او راوړونکي ته يې ساحر او کوډګر وايي، که په واقع سره مونږ په کاغذ ليکلی شوی داسې کتاب هم له آسمانه ورولیږو، چې دوی يې د خپلو لاسونو په مښلو سره هم معلوم کړي، او ښه وپوهيږي چې څه تخييل او نظر بندي په کې نشته؛ نو بيا هم دوی عناداً هم داسې وايي چې: دا خو صريح جادو دی، هغو بدبختو ته چې هدايت نه دی ور په برخه شوی؛ د هغو شک او شبهه له سره نه ورکيږي.

وَقَالُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ۖ وَلَوْ أَنْزَلْنَا مَلَكًا لَقُضِيَ الْأَمْرُ ثُمَّ لَا يُنْظَرُونَ ﴿٨﴾

او ويلي (کفارو) ولې نه نازليږي په دغه (محمد) پرښته (له آسمانه)؟ او که نازله کړي وی مونږ پرښته؛ نو خامخا فيصله شوې به وه خبره (د هلاک د دوی)، بيا به (دوی ته) مهلت نه وو ورکړی شوی.

تفسير: يعنې کفارو ويل چې: ښايي پرښته مونږ ته مخامخ ودريږي، او د ده پر صداقت شاهدي ورکړي، نو الله تعالى فرمايي: «که پرښتې په خپل اصلي صورت سره راشي، نو دا خلق د يوې شېبې لپاره هم د هغوی تحمّل نشي کولی»، که د دې خلقو داسې عظيم الشأن او خارق العاده غوښتنه هم پوره کړی شي، او بيا يې هم ونه مني، لکه چې د دوی د نورو معاندانه احوالو او اقوالو څخه ښکاره ده، نو له سنت الله سره برابر بيا قطعاً دوی ته هيڅ مهلت نه ورکول کيږي، او د داسې سخت عذاب غوښتونکو باندې خامخا همغسې سخت عذاب نازليږي، چې په هغه سره به دوی بيخي فنا کيږي، نو په دې لحاظ د داسې غوښتنې نه پوره کول هم ښايي د الله تعالى عين رحمت وګڼل شي.

وَلَوْ جَعَلْنَاهُ مَلَكًا لَجَعَلْنَاهُ رَجُلًا وَلَلَبَسْنَا عَلَيْهِمْ مَا يَلْبِسُونَ ﴿٩﴾

او که ګرځولی وی مونږ دا رسول پرښته (نه بشر) نو خامخا ګرځولې به وه مونږ دغه پرښتنه (په صورت د يوه) سړي، او (که ګرځولی وی مونږ پرښته په صورت د سړي نو) خامخا په شبهه کې به اچولي وو مونږ دوی په همغسې اشتباه کې چې اوس په کې پراته دي.

تفسير: ځرنګه چې په لومړني آيت کې د پرښتو د لېږلو ځنې په اصلي صورت سره نفي وشوه، اوس نو د دويم احتمال ځواب ورکوي، او هغه دا دی چې بايد پرښتې د انسانانو په شکل ولېږلی شي، ځکه چې په دې صورت کې د صوري مجانست په بناء خلق د دوی د نمونې او تعليم ځنې منتفع کېدی شي، ليکن په دې تقدير سره هم د منکرانو د شبهاتو ازاله نشي کېدی، هغه شکونه او شبهې چې د رسول په بشريت کې يې کوي؛ همغه به په مَلَک کې هم (که د بشر په شکل د دوی له غوښتنې سره سم راتلی) واردېدلی.

وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِينَ سَخِرُوا مِنْهُمْ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿١٠﴾

او خامخا په تحقيق مسخرې کړی شوې دي په رسولانو چې پخوا وو له تا نه؛ نو چاپېر او محيط شو په هغو کسانو پورې چې مسخرې يې کولې په دوی پورې هغه (عذاب) چې وو دوی چې په هغه پورې به يې مسخرې کولې.

قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ ثُمَّ انْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿١١﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته كه دوى نه وي قائله په هلاك د پخوانيو قرنو): وګرځئ تاسې په ځمكه كې بيا وګورئ چې څرنګه وو عاقبت (خاتمه) د دروغجن ګڼونكو (د رسولانو).

تفسير: يعنې د ملكونو د سير او سياحت او ګرځېدلو او د تباه شويو أقوامو د آثارو له كتلو څخه وروسته كه د عبرت په نظر سره ماضي واقعاتو ته وګورئ؛ نو د هغو اقوامو انجام به تاسې ته صاف درښكاره او څرګند شي؛ چې د انبياوو تكذيب ته يې ملاوې تړلې وې، نو په همغو يې قياس كړئ ! كله چې د مكذبينو حال هغسې شو، نو د استهزاء كوونكو حال به څرنګه وي؟.

قُلْ لِمَنْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ قُلْ لِلَّهِ كَتَبَ عَلَىٰ نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٢﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) چې چا لره دي (خلقاً، ملكاً او عبيداً) هغه شيونه چې په آسمانونو كې او په ځمكه كې دي (سره له آسمانونو او ځمكې)؟ ووايه (اى محمده ! دوى ته) چې خاص الله لره دي (بل ځواب نشته)، لازم كړى دى الله (تفضلاً) پر نفس خپل رحمت، خامخا ټول به كړي (الله) هرو مرو تاسې په ورځ د قيامت كې چې نشته هيڅ شك په (راتلو د) هغې كې، هغه كسان چې زيان يې رسولى دى ځانونو خپلو ته (د اصلي فطرت او سليم عقل په ضياع)؛ نو دوى ايمان نه راوړى.

تفسير: كله چې په ګردې (ټولې) ځمكې او آسمانونو كې د الله تعالى حكومت دى، لكه چې مشركان هم داسې اقرار كوي؛ نو مكذبانو او مستهزآنو ته كله له فوري سزا څخه نجات او پناه ورکوله كيږي؟ دا يواځې د الله جل جلاله عمومي رحمت دى، چې د جرائمو د ليدلو سره سره فوراً مجرم ته سزا نه وركوي، نو د قيامت په ورځ كې چې يقيناً او بلا شُبهه راتلونكې ده، يواځې همغو بدبختانو ته به سزا وركوي؛ چې په قصد سره يې خپل ځانونه د هلاكت په كنده كې اچولي دي.

وَلَهُ مَا سَكَنَ فِي اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١٣﴾ قُلْ أَغَيْرَ اللَّهِ أَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَسْلَمَ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٤﴾

او خاص دغه (الله) لره دي هغه شيونه چې اوسيږي (آرام كوي) په شپه كې او په ورځ كې (يعنې دا ټول د الله مملوك دي)، او همدغه (الله) دى ښه اوربدونكى (د ټولو اقوالو) ښه عالم (پر ټولو احوالو). ووايه (اى محمده ! دوى ته) چې آيا بې له الله ونيسم زه (بل ولي) دوست مددګار؟ (هسې الله) چې پيدا كوونكى د آسمانونو او د ځمكې دى، (بلكه نه يې نيسم) حال دا چې دغه (الله) روزي وركوي (ګردو مخلوقاتو ته) او ده ته روزي نشي وركولى، ووايه (اى محمده ! دوى ته) بېشكه زه مأمور يم (حكم راته شوى دى) چې شم اول د هغو چې غاړه يې ايښې ده (الله ته له دغه محمدي امته)، او (ويلي شوي دي ماته) چې مه كېږه له سره له مشركانو نه.

قُلْ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) بېشكه زه ويربرم كه نافرماني وكړم له رب خپله له عذابه د ورځې ډېرې لويې نه (چې قيامت دى).

تفسير: په پيغمبر صلى الله عليه وسلم يې اينبى او نورو ته يې اورولى دى، يعنې كه په فرض محال سره د الله تعالى له ډېرو معصومو او خورا (ډېرو) غوره بندګانو ځنې هم كوم ډول عصيان صادر شي؛ نو د الله تعالى د عذاب اند ښښنه ورته شته، نو بيا نورو ته كله لايق او وړ (مناسب) ده؛ چې سره له شركه او د انبياوو د تكذيبه او د نورو زرهاوو ډولونو جرائمو له ابتلاء سره د الله تعالى له عذابه بېفكره او مأمون شي.

مَّن يُصْرَفْ عَنْهُ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهُ ۚ وَذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْمُبِينُ ﴿١٦﴾

هر هغه څوك چې چپ (بچ) كړى شي له عذابه په دې ورځ كې؛ نو په تحقيق رحم (مهرباني) كړې ده (الله) په ده او دا (مهرباني) برى دى ښكاره.

تفسير: د جنت او د الله جل جلاله رضا حاصلول خو د مدارجو اعلى او خورا (ډېر) لوړ مقام دى، كه له چا ځنې د آخرت عذاب لري شي، نو دغه هم لوى برى او ښه كاميابي ده، كما قال عمر رضي الله تعالى عنه: «وددت أني نجوت منها كفافاً لا لي ولا عليّ».

وَإِن يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ ۖ وَإِن يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٧﴾
وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ ۚ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ﴿١٨﴾

او كه ورسوي تاته الله څه سختي (لكه مرض او فقر) نو نشته هيڅ لرې كوونكى د هغه مګر همدى دى، او كه ورسوي تاته څه خير (لكه صحت او غنى) نو دى پر هر شي ښه قادر دى (نو تل خير او شر، نفع او ضرر هم د الله په اراده رسيږي) او هم دى غالب زورور دى له پاسه د بندګانو خپلو، او هم دى ښه حكمت والا ښه خبردار دى (له هر شي).

تفسير: هر چا ته چې الله تعالى په دنيا يا په آخرت كې كوم تكليف يا راحت ور رسوي، نه يې څوك په مقابلې سره ستنولى (واپس كولى) شي، او نه د ده له غلبې او اقتداره چېرې تښتېدلى شي، همدا الله تعالى له بنده څخه ښه خبردار دى، چې څه څه اعمال او حالات لري، او د دوى له اعمالو او حالاتو سره كوم اجراءات او بدل لازم او مناسب او له حكمت سره قرين دي؟.

(دغه لاندې آيت هله نازل شو، چې ځمونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل شو، چې ته په خپل صداقت باندې كوم شاهد لرې؟ ځكه چې كتابيان ستا له نبوته انكار كوي).

قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً ۖ قُلِ اللَّهُ ۖ شَهِيدٌ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ۚ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا الْقُرْآنُ لِأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ ۚ أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ اللَّهِ آلِهَةً أُخْرَىٰ ۚ قُل لَّا أَشْهَدُ ۚ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ وَإِنَّنِي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴿١٩﴾

(ووايه اى محمده ! دوى ته) چې كوم يو شى لوى دى له جهته د شاهدى؟ ووايه (په ځواب كې دوى ته) چې الله (لوى دى د شهادت له جهته، بل ځواب نشته !) (او الله) ښه شاهد دى

ځما او ستاسې په منځ کې، او وحيې کړی شوې ده ماته د دې قرآن لپاره د دې چې وويروم (خبردار کړم) تاسې په دې سره، او هغه څوک چې ورورسيږي (ده ته دا قرآن په هر زمان او مکان کې)، آيا بېشکه تاسې خامخا شاهدي لولئ په دې چې شته د الله سره معبودان نور؟ ووايه (ای محمده ! دوی ته) زه خو شاهدي (په دې سره) نه ورکوم، ووايه خبره همدا ده چې الله دی معبود يو، او بېشکه زه بېزار يم له هغو شيونو چې شريکان کوئ يې تاسې (له الله سره).

تفسير: يعنې که پوهېږئ نو ځما په صداقت د الله جل جلاله يقيني او ښکاره شهادت همدا موجود عظيم الشأن قرآن دی، چې پخپله په دې باندې دليل دی؛ چې الهي کلام دی، «د لمر دليل پخپله دغه لمر دی»، ځما کار دا دی چې تاسې او هر هغه چاته چې دا د الله تعالى کلام ورورسيږي، هغه د الله تعالى له پيغامه خبردار کړم، بيا هم تاسې دا وايئ چې غير له الله جل جلاله نور معبودان هم شته؟ تاسې اختيار لرئ هر څه چې مو زړونه غواړي هغه ووايئ ! زه خو له سره داسې حرف په خپله ژبه نشم راوړی، بلکه صاف اعلان کوم چې د عبادت لايق او وړ يوائې هغه يو پاک الله دی، باقي هر هغه څه چې تاسې يې ورسره شريکان ګڼئ؛ زه له هغو څخه بيخي خپله بېزاري او نفرت څرګندوم.

تنبيه: په ﴿وَمَنۢ بَلَغَ﴾ سره يې وښود چې د نبي کريم «عليه أفضل الصلاة والتسليم» رسالت د ګردو (ټولو) انسانانو، پيريانو، مشرق، مغرب، شمال، جنوب، ټولو مللو او اقوامو لپاره دی؛ (د نزول له وقته تر قيامته پورې، او د پاک قرآن ليدل داسې دي لکه د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم ليدل).

ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَعۡرِفُونَهُۥ كَمَا يَعۡرِفُونَ أَبۡنَآءَهُمُۘ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٢٠

هغه کسان چې ورکړی دی مونږ دوی ته کتاب؛ پېژني دوی دا (رسول) لکه چې پېژني دوی ځامن خپل، هغه کسان چې زيان يې رسولی دی ځانونو خپلو ته، نو دوی ايمان نه راوړي.

تفسير: يعنې علاوه په دې چې ځما په صداقت الله تعالى شاهد او قرآن کريم ناطق دی، او پرې غير قابل ترديد شهادت ورکوي، هغه اهل کتاب يعنې يهود او نصارى هم (چې خلق هغوی ته د آسماني کتابونو د عالمانو په حيث ځما د خبرو او معاملو په باره کې رجوع کوي) په خپلو زړونو کې داسې پوره يقين لري، چې بلا شُبهه زه همغه (آخر الزمان نبي) يم، چې ځما زېرى پخوانيو انبياوو عليهم السلام پرله پسې کړی دی، دوی همغسې چې په ډېرو هلکانو کې خپل هلکان ژر پېژني، او په کې څه ربړ (زحمت) او تکليف نه کوي؛ همداسې دوی د نبي کريم په رسالت، او د پاک قرآن په صداقت کې هم هيڅ شک او شبهه نه لري، او ګرد حقائق دوی ته ښکاره دي.

هو ! حسد، کبر، دپلرونو تقليد، د جاه او مال سره مينه او نور اغراض دوی ته اجازه نه ورکوي، چې په ايمان مشرف شي، او خپل ځانونه له دائمي نقصان او ابدي هلاکت ځنې وژغوري (وساتي).

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٢١

اوڅوک دی ډېر ظالم له هغه چا چې وترې پر الله دروغ يا نسبت د دروغو کوي آيتونو د ده ته؟ (بلکه نشته !) بېشکه شان دا دی چې خلاصی نه مومي ظالمان.

تفسير: يعنې چې نبي نه وي او پر الله جل جلاله افتراء، او د نبوت غلطه دعوى وکړي، يا د داسې صادق نبي تکذيب وکړي، چې پر صداقت يې واضحه دلائل موجود وي، او د الله تعالى پيغام خلقو ته اوروي، له دې دواړو څخه زيات بل هيڅوک ظالم کېدی نشي، او د الله جل جلاله سنت هم داسې جاري دي، چې په پای (آخر) کې برى او کاميابي ظالمانو ته نه په برخه کيږي.

نو فرض يې کړئ که معاذ الله زه مفتري يم، نو له سره به بری ونه مومم، او که تاسې مکذبان يئ لکه چې له دلائلو ځنې ښکاريږي؛ نو تاسې به د خير مخ ونه وينئ ! نو له دې کبله (وجې) ښايي چې پر ځردو (ټولو) حالاتو کې ښه غور او دقت وکړئ ! او د آخرت او د انجام په فکر کې شئ، او د هغې ورځې له عاقبته وويرېږئ چې وروسته يې ذکر راځي.

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا أَيْنَ شُرَكَاؤُكُمُ الَّذِينَ كُنْتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٢٢﴾

او (ياده کړه) هغه ورځ چې راجمع به کړو دوی (يعنې عابدان او معبودان) ټول، بيا به ووايو (زجراً) هغو کسانو ته چې شرک يې کړی دی، چې چېرته دي؟ (او څه شول؟) شريکان ستاسې هغه (شريکان) چې وئ تاسې چې ځکل به مو (د الله شريکان).

ثُمَّ لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ إِلَّا أَنْ قَالُوا وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴿٢٣﴾

بيا به نه وي دليل او ځواب د دوی (په هغه وخت کې چې عذابيږي، او امتحانيږي دوی په سبب د کفر او شرک د دوی)؛ مګر دا چې وايي به دوی چې: قسم په الله چې رب ځمونږ دی چې نه وو مونږ مشرکان.

تفسير: يعنې د واقعاتو له انکار ځنې پرته (علاوه) بله چاره نه لري، د هغو باطلو معبودانو حقيقت چې ځرد عمر د هغو په عقيده او محبت کې بيخي محو او مفتون شوي وو، هم دغومره پاتې کيږي چې؛ د هغوی د ځرد عمر له تعلق او عقيدې څخه منکريږي.

انْظُرْ كَيْفَ كَذَبُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾

وګوره (ای محمده !) څرنګه دروغ يې وويل پر ځانونو خپلو (په نفي د شرک له ځانه) او ورک شو له دوی نه هغه چې وو دوی چې ترڼ به يې دروغ (پر الله په نيولو د شريکانو سره).

وَمِنْهُمْ مَنْ يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ وَجَعَلْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَنْ يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا وَإِنْ يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَا يُؤْمِنُوا بِهَا حَتَّى إِذَا جَاءُوكَ يُجَادِلُونَكَ يَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٢٥﴾
وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْأَوْنَ عَنْهُ وَإِنْ يُهْلِكُونَ إِلَّا أَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾

او ځينې له کفارو هغه څوک دي چې غوږ نيسي تاته (د قرآن د قرائت په وخت کې) او اچولی دی مونږ په زړونو د دوی پردې (له دې جهته) چې پوهه نشي دوی په دې (قرآن) او (ايښی مو دی) په غوږونو د دوی کې دروندوالی (کونږوالی چې حق خبره وانه وري)، او که ووينې دوی ځرد (ټول) دلائل (د قدرت نو بيا هم) ايمان نه راوړي دوی پر دغه (هر قسم معجزو عناداً)، تر هغه پورې کله چې راشي دوی تاته چې جګړې کوي له تاسره؛ وايي هغه کسان چې کافران شوي دي، نه دی دا قرآن مګر باطلې قصې دي د پخوانيو خلقو. او دا کسان منع کوي (خلق) له رسوله (يا له قرآنه يا له ايمان نه) او (پخپله هم) لري کيږي له ده (چې ايمان پرې نه راوړي)، او نه هلاکوي دوی مګر ځانونه خپل او نه پوهيږي دوی (په دې چې ضرر يې هم دوی ته عائد دی).

تفسير: يعني په دوی کې نه فهم پاتې دی، او نه انصاف، ایمان راوړل او له رباني هدایتونو ځنې انتفاع لا چېرې؟ ! د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په حضور کې د دوی د راتللو څخه غرض یواځې مجادله، جګړه، تعریض، ټوکې او تفریح کول دي، کله چې قرآني حقائقو او بیاناتو ته به یې معاذ الله ﴿أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ﴾ ویل، بیا په دغه تکذیب، مجادله، او تمسخر یې اکتفا نه کوله، او کوښښ یې کاوه چې د نورو په اذهانو کې هم دغه رنځوري سرایت وکړي، لکه چې خلق یې له حق ځنې ستنول (واپس کول)، او دوی پخپله هم له حقائقو ځنې لرې تښتېدل، څو د دوی له لیدلو ځنې نور کسان هم د حق له منلو ځنې متنفر او بېزاره شي، مګر له دغو ټولو ناپاکو کوښښونو ځنې «الله الحمد» نه حق دین ته څه نقصان رسېدی شي، او هغه هرو مرو (خامخا) غالبېږي، او نه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته څه نقصان رسېږي.

وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ وُقِفُوا عَلَى النَّارِ فَقَالُوا يَا لَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِآيَاتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٧﴾

او که وویني ته (ای محمده !) کله چې ودرولی شي دوی پر اور (د دوزخ، د پل صراط په سر، نو وبه ویني یو لوی امر)، نو وبه وایي دوی (د عذاب د انواعو له لیدلو وروسته): ای کاشکې مونږ بیا بوتلی شو (دنیا ته) او نه به کړو تکذیب په آیتونو د رب خپل، او شو به مونږ له مؤمنانو (باور کوونکو نه).

بَلْ بَدَا لَهُمْ مَا كَانُوا يُخْفُونَ مِنْ قَبْلُ ۖ

(داسې نه ده لکه چې دوی وایي) بلکه ظاهر شو دوی ته هغه چې وو دوی چې پټول به یې پخوا (له دې نه په دنیا کې چې کفر او معاصي دي).

تفسير: یعني دوی اوس هم په صحیح عزم او ایماني شوق او رغبت دنیا ته د بېرته ورتګ هیله (امید) نه کوي، بلکه کله چې یې د هغه عمل د مکافاتو او مجازاتو منظره ولیدله، چې د ښکاره دلائلو سره سره یې ترې انکاره کاوه، او د دوی اوسني دروغ چې: ﴿وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ﴾ وایي ښکاره شول، او د دوی د شرارت پټ او له سترګو پناه آثار چې د دغو نالایقانو په زړونو کې یې وده کړې وه، مختل شول، او د یوه دردناک عذاب په صورت ورته ممثّل او مخې ته یې ودرېدل، نو اوس دوی تش د ځان د نجات لپاره دنیا ته د بېرته ورتګ هیله (امید) کوي.

وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٢٨﴾

او که بېرته بوتله شي دوی (دنیا ته) نو خامخا به بیا هم راوګرځي دوی همغه شي ته چې منع کړی شوي وو دوی له هغه شي څخه (چې کفر او معاصي دي) او بېشکه دوی هرومرو دروغجنان دي (په دغه دعوی د ایمان کې).

تفسير: یعني اوس هم دروغ وایي؛ چې «مونږ دنیا ته بېرته لاړ شو، ایماندار به وګرځو، او له سره به د آیات الله تکذیب ونه کړو»، خو دا اشقیاء که بېرته دنیا ته هم ستانه کړل شي؛ نو بیا به هم له شرارت او بدۍ څخه لاس نه اخلي، او هغه رذیله قوتونه چې د دوی په وجود کې شته، بیا به یې په کار اچوي، او له هغه مصیبت څخه چې ویرېدلي وو، او د بېرته تللو تمنّا یې کړې وه، هغه به لکه یو خوب او خیال هېروي، لکه چې ډېر ځلې کله چې سړی په دنیوي مصائبو او مهالکو کې آخته کېږي، نو انابت او توبه غوره کوي، ولې همدا چې څو ورځې تېرې شي؛ بیا یې هیڅ شی په یاد نه پاتې کېږي، چې په هغه وخت کې مې څه عهد او پیمان کړی وو ﴿كَأَنْ لَمْ يَدْعُنَا إِلَىٰ ضُرٍّ مَسَّهُ﴾.

وَقَالُوٓا۟ إِنْ هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿٢٩﴾

او وايي دوی نه دی ژوندون مګر همدا ژوندون ځمونږ دنيوي (چې لږ او نژدې دی) او نه يو مونږ بيا راپاڅولي شوي (راپاڅيدونکي له قبرونو څخه حساب او کتاب ته).

تفسير: يعنې ښې مزې کوئ ! او دنيوي عيش او عشرت مو د آخرت په فکر او اندېښنه کې مه خرابوئ، همدا حال نن ورځ د اروپايي ماده پرستانو هم دی.

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ وُقِفُوا۟ عَلَىٰ رَبِّهِمْ ۚ قَالَ أَلَيْسَ هَٰذَا بِٱلْحَقِّ ۚ قَالُوا۟ بَلَىٰ وَرَبِّنَا ۚ قَالَ فَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٠﴾

او که وويني ته (ای محمده !) هغه وخت چې ودرولی شي دوی رب خپل ته (په موقف د عرض کې د حساب لپاره نو وبه وينې يو لوی امر) فرمايي به (الله) آيا نه دی دا (دويم ژوندون) په حقه سره؟ وبه وايي دوی: هو بلکه دی، قسم دی وي په رب زمونږ ! پس وځکئ تاسې دا عذاب په سبب د دې چې وئ تاسې چې کافران شوي وئ (په دنيا کې).

تفسير: يعنې کله چې حقيقت د دوی تر سترګو لاندې راشي، او د «بعث بعد الموت» او نورو له اقراره څه چاره ورپاتې نشي، نو دلته دوی ته ويل کيږي، چې اوس د حقيقت د انکار او د «کفر بالمعاد» خوند وځکئ !.

قَدْ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِلِقَآءِ ٱللَّهِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتْهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغْتَةً قَالُوا۟ يَٰحَسْرَتَنَا عَلَىٰ مَا فَرَّطْنَا فِيهَا ۙ وَهُمْ يَحْمِلُونَ أَوْزَارَهُمْ عَلَىٰ ظُهُورِهِمْ ۚ أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ ﴿٣١﴾

په تحقيق زيانکاران (او تباه) شوي دي هغه کسان چې دروغ ګڼي ملاقات له الله سره (په عقبا کې)، تر هغه پورې کله چې راشي دوی ته قيامت ناڅاپه؛ (نو) وايي به دوی: ای افسوسه (او پښېمانۍ) ځمونږ په هغه شي چې تقصير کړی وو مونږ په دنيا کې (چې هغه ايمان وو)، حال دا چې دوی به واخلي (پيټي د) ګناهونو خپلو پر شاوو خپلو، واورئ ! خبردار شئ ! چې بد دی هغه شی چې په شا يې ګرځوي دوی.

وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا لَعِبٌ وَلَهْوٌ ۖ وَلَلدَّارُ ٱلْـَٔاخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٣٢﴾

او نه دی حيات دنيوي (ژوندون لږ خسيس) مګر لوبې (د هلکانو) او ساعت تيري (د ليونيانو) ده، او خامخا دار آخرنی خير (بهتر) دی لپاره د هغو کسانو چې پرهېزګاري کوي، نو آيا عقل نه چلوئ تاسې (چې دنيا ښه ده که عقبی؟ چې ايمان راوړئ !).

تفسير: کفارو خو داسې ويل چې د دنيوي ژوندون څخه ما سوا بل هيڅ ژوندون نشته، ليکن واقعه دا ده؛ چې دغه فاني او مکدّر ژوندون د اخروي ابدي حيات په مقابل کې بيخي هيڅ او بې حقيقته دی، د دې دنيا په ژوندون کې يواځې همغې شېبې او برخې ته ژوندون ويلی شو؛ چې د آخرت لپاره په کې څه تياری او کار وکړ شي، باقي نور تمام وختونه چې د آخرت له فکره او تياری څخه تش وي؛ يوه عاقبت انديش ته له لهو او لعب څخه زيات اهميت نه لري، پرهېزګاران او پوهان پوهيږي چې د دوی اصلي کور د آخرت کور دی، او د هغوی حقيقي ژوندون د آخرت ژوندون دی. (اللهم ارزقناه).

قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ فَصَبَرُوا عَلَىٰ مَا كُذِّبُوا وَأُوذُوا حَتَّىٰ أَتَاهُمْ نَصْرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ ۚ وَلَقَدْ جَاءَكَ مِن نَّبَإِي الْمُرْسَلِينَ ﴿٣٤﴾

په تحقيق مونږ پوهيږو بېشکه شان دا دی چې خامخا خپه کوي تا (ای محمده !) هغه شی چې وايي دوی (ستا په تکذيب کې)، نو بېشکه دوی نه کوي تکذيب ستا (په واقع کې)، وليکن دا ظالمين په آيتونو د الله انکار (او مسخرې) کوي. (نو ته مه خپه کېږه ! ځکه چې) او خامخا په تحقيق دروغجن بللي شوي دي ډېر رسولان پخوا له تا نه، نو صبر به يې کاوه پر دروغجن ګڼلو او ضرر رسېدلو (د کفارو له جانبه) تر هغه پورې چې راغله دوی ته مرسته (مدد) ځمونږ، او نشته هيڅ بدلوونکی د احکامو اړوونکی د کلماتو د الله، او خامخا په تحقيق راغلې ده تاته (څه خبره) له حالاتو د (تېرو) رسولانو (چې پرې متسلّي شې).

تفسير: په دغو آيتونو کې اول رسول الله صلى الله عليه وسلم ته تسلّي ده او اشقياوو ته ډار (وېره) او انذار ورکړی شوی دی، يعنې تاسې د دوی له دې اعراض او تکذيب څخه دومره مه خپه او مه پرېشانېږئ ! دا خلق چې ستا تکذيب کوي؛ في الحقيقت ستاسې تکذيب نه دی، ځکه چې تاسې لا له پخوا څخه بالاتفاق صادق او امين پېژندلي شوي يئ، بلکه دوی د الله تعالى د هغو آيتونو او ننبو تکذيب کوي، چې د رسول کريم صلى الله عليه وسلم د تصديق او تبليغ لپاره ليږلي شوي دي، او په قصد سره او د ظلم او عناد له لارې تړې انکار کوي، نو تاسې هم د دې ظالمانو معامله الله تعالى ته وسپارئ ! او مطمئن او ډاډه اوسئ، چې الله تعالى د دوی د ظلم نتيجه او ستاسې د صبر ثمره خامخا درکوي.

له پخوانيو انبياوو سره هم (چې د هغوی څه حالات تاسې ته آورول شوي دي) د دوی قومونو د تکذيب او ايذاء رسولو معامله کړې وه، چې پر هغو د الله تعالى هغو معصومو او نهايت أولوا العزمو رسولانو صبر کاوه، تر دې چې د الله تعالى له وعدې سره سم دوی ته مرسته (مدد) ورسېده، او د ډېرو لويو او زبردستو منکرينو او متکبرينو په مقابل کې دوی مظفر او منصور وګرځول شول، له تاسې سره هم د نصرت او ظفر هغه وعدې چې شوي دي، ګردې (ټولې) يو په يو پوره کيدونکي دي.

وَإِن كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَن تَبْتَغِيَ نَفَقًا فِي الْأَرْضِ أَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَاءِ فَتَأْتِيَهُم بِآيَةٍ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدَىٰ ۚ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْجَاهِلِينَ ﴿٣٥﴾

او که وي چې سخت وي پر تا باندې مخ ګرځول د دوی (له حق دين څخه)؛ پس که توان لرې تـه چې ولټوې کـوم سـوری (سرنګ) په ځمکې کـې (چې پکې کوز شې ځمکې ته) يا (ولټوې) کومه زينه په (طرف د) آسمان (چې پرې وخېژې آسمان ته) نو راوړې ته دوی ته کومه معجزه (چې دوی يې غواړي پس رايې وړه، خو فائده نه کوي، نو د دوی په ايمان حرص مه کوه، او تل خپل تبليغ کوه)، او که اراده کړې وی الله (د هدايت د دوی) نو هرو مرو (خامخا) به يې راټول کړي وو دوی ګرد (ټول) په سمه صافه لاره، پس له سره مه کېږه له ناپوهانو څخه (چې د ازلي کفارو په ايمان حرص کوې، او د دوی په جهالت پخسېږې ـ حسد کوې).

تفسير: د ﴿فَإِنِ اسْتَطَعْتَ﴾ ځواب په آيت کې محذوف او په ترجمه کې په «پس رايې وړه» سره مذکور دی، د کفارو دا مطالبه وه، کله چې دی نبي دی؛ نو ښايي چې له ده سره تل داسې يوه علامه او ننبه وي، چې د هغې په ليدلو سره هر

سړی پرې یقین وکړي، او په ایمان راوړلو مجبور شي، څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ګردې (ټولې) دنیا پر هدایت حریص وو، ښایي د دوی په زړه کې داسې کومه خبره تېره شوې وي، چې د کفّارو دا مطالبه پوره کړه شي، نو ځکه حق تعالی دا تربیت وفرمایه، چې په تکوینیاتو کې د الله تعالی د مشیئت تابع اوسه ! تکویني مصالح د دې خبرې مقتضي نه دي؛ چې ګرده (ټوله) دنیا په ایمان راوړلو مجبوره کړی شي، که نه «الله تعالی» په دې باندې هم ښه قادر وو، چې بې له رسولانو او علائمو له ابتداء څخه ګرد (ټول) په سمه صافه لاره بوځي، او پوره هدایت یې ور په برخه کړي.

کله چې د الله تعالی حکمت د داسې مجبوروونکو معجزاتو او فرمایشي علائمو د ښوولو لپاره تیار او مقتضي نه دی؛ نو د الله تعالی د سنت او مشیئت پرخلاف به بل څوک داسې طاقت او قوت له کومه ولري، چې په ځمکې سرنګ وکیني، یا آسمان ته زینه ودروي (یا پکې پړی وځړوي)، او داسې فرمایشي او مجبور کوونکې معجزې ښکاره او وروښیي، د الله تعالی د تدبیر او حکمت له قوانینو ځنې پرته د کوم بل شي د وقوع توقع لرل د ناپوهانو کار دی.

إِنَّمَا يَسْتَجِيبُ الَّذِينَ يَسْمَعُونَ ۘ وَالْمَوْتَىٰ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ ثُمَّ إِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٣٦﴾

بېشکه قبلوي بلنه ستا (ایمان ته) هغه کسان چې اوري (پند ستا، او کفّار یې نه آوري لکه مړي) او مړي به ژوندي کړي الله، بیا خاص هم ده ته به وروستی شي دوی (د حساب او جزاء لپاره).

تفسیر: یعنې تاسې له ګردو (ټولو) ځنې داسې توقع مه لرئ، چې هغوی به ستاسې خبرې ومني، د هر چا د زړه غوږونه چې کانه شوي وي هغه نه اوري، نو بیا به یې هغه څرنګه ومني؟ ! هو ! دغه کافران چې د قلبي او روحاني حیثیته د مړو په شان دي، په قیامت کې به د حقائقو په لیدلو یقین کوي، او هغه ګرد (ټول) شیان به ومني چې له هغو ځنې یې انکار کولو.

وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ ۚ

او وایي کفار ولې نه نازلولی شي په دغه (محمد) باندې کومه معجزه (دلیل د قدرت چې مونږ یې غواړو) له (جانبه د) رب د ده.

تفسیر: یعنې له دغو دلائلو ځنې یو دلیل ولې راونه لېږل شو چې دوی غوښتی وو کما في قوله تعالی: ﴿وَقَالُوا لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الْأَرْضِ يَنبُوعًا ﴿٩٠﴾ أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْأَنْهَارَ خِلَالَهَا تَفْجِيرًا ﴿٩١﴾ أَوْ تُسْقِطَ السَّمَاءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا أَوْ تَأْتِيَ بِاللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ قَبِيلًا ﴿٩٢﴾ أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَىٰ فِي السَّمَاءِ ۖ وَلَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَابًا نَّقْرَؤُهُ ۗ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا ﴿٩٣﴾﴾ (١٥ جزء د بني اسرائیل (الاسراء) د سورت (١٠) رکوع ٩٠، ٩١، ٩٢، ٩٣، آیت) او که نه هسې نورې علمي او عملي معجزې او علامې د باران په شان ډېرې پر تاسې وربدلي دي، او اُوري به.

قُلْ إِنَّ اللَّهَ قَادِرٌ عَلَىٰ أَن يُنَزِّلَ آيَةً وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٧﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) بېشکه الله قادر دی په دې خبره چې نازل کړي (راولېږي) (مطلوبه) معجزه، لیکن اکثره کسان له دوی ځنې نه پوهیږي (چې هغه معجزه سبب د عذاب ده).

تفسیر: یعنې الله تعالی د فرمایشي معجزاتو له ښوونو څخه عاجز نه دی، لیکن د حکمت او رحمت پر هغو قوانینو چې د تکوینیاتو نظام قائم او مبني دی، له تاسې ځنې ډېر کسان د هغو له پوهېدلو څخه قاصر دي، د دغو قوانینو اقتضاء هم دا ده چې ګردې فرمایشي معجزې ورته ونه ښودلې شي.

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طَٰٓئِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمْثَالُكُم ۚ مَّا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَٰبِ مِن شَيْءٍ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ ﴿٣٨﴾

او نشته هيڅ حيوان (خوځيدونکی تلونکی) په ځمکه کې او نه هيڅ مارغه چې الوځي په دواړو وزرونو خپلو (په هوا کې) مګر (ټول سره) امّتونه (مخلوقات) دي په شان ستاسې، نه دی پريښی مونږ په کتاب (لوح محفوظ) کې هيڅ شی (بلکه ګرد ليکلي دي) بيا به (دا ګرد) رب خپل ته ورټول کړی شي (د حساب او جزاء لپاره).

تفسير: په دې آيت کې پر ځينو هغو حکمتونو تنبيه کړی شوې ده، چې د فرمايشي معجزاتو په نه ورښوولو کې مرعي دي، يعنې ګرد هغه حيوانات چې پر ځمکه خوځيږي، يا په هوا کې الوځي، دوی هم د انسانانو په شان يو امت دی، له دوی ځنې هره نوعه الله تعالى په يوه خاصه وضع او فطرت پيدا کړې ده، چې دوی د خپلو افعالو او خواصو په معيّنه دائره کې کار کوي، او هيڅ يو ساکنس (ذي روح) د خپلو هغو افعالو او حرکاتو د محدودې حلقې له دائرې ځخه يو پل هم د باندې نه ږدي، چې د الله تعالى له لوري د ده فطرت او استعداد په اعتبار مشخص او ټاکلی (مقرر) شوی دی، لکه چې د پيدايښت له ابتداء ځخه تر نن پورې هيڅ يو حيوان د خپلې نوعې د عمل په محدوده دائره کې هيڅ قسم ترقي نه ده کړې، همداسې د هر شي استعداد او فطرت ته خيال وکړئ، د الله تعالى په قديم علم او لوح محفوظ کې د ګردو (ټولو) انواعو او اجناسو د تدبير او تربيت اصول او فروع منضبط شوي دي.

وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِـَٔايَٰتِنَا صُمٌّ وَبُكْمٌ فِي الظُّلُمَٰتِ ۗ مَن يَشَإِ اللَّهُ يُضْلِلْهُ ۖ وَمَن يَشَأْ يَجْعَلْهُ عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٩﴾

او هغه کسان چې دروغ ګڼې آيتونه ځمونږ کاڼه دي او ګونګيان دي (د حق له اورېدلو او ويلو نه) په تيارو کې دي (د کفر او جهل)، او هر چا ته چې اراده وفرمايي الله (د ګمراهۍ يې) نو ګمراه کوي يې (او د هدايت توفيق ترې اخلي)، او هر چاته چې اراده وفرمايي (الله د هدايت د ده) نو ګرځوي هغه په سمه صافه لاره (د حق).

تفسير: (کاڼه او راڼده دي چې) نه د ويونکي ځنې آوري، او نه پخپله له نورو ځنې پوښتنه کوي، او نه په تيارو کې څه شی ليدلی شي، کله چې د دوی ګردې (ټولې) قواوې د بې اعتداليو له امله (وجې) بېکاره کړی شوي دي، نو د حق د تصديق او د هغه د قبلولو لپاره څه وسيله لري؟ ! الله تعالى د هغو کسانو د ګمراه کولو اراده فرمايي؛ چې دوی پخپله د هدايت وسايل په خپل ځان باندې مسدود کړي وي: ﴿وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَٰهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَىٰهُ﴾ (٩ جزء (٢٢) رکوع د الأعراف (١٧٦) آيت).

قُلْ أَرَءَيْتَكُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُ اللَّهِ أَوْ أَتَتْكُمُ السَّاعَةُ أَغَيْرَ اللَّهِ تَدْعُونَ ۖ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٠﴾ بَلْ إِيَّاهُ تَدْعُونَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ إِن شَآءَ وَتَنسَوْنَ مَا تُشْرِكُونَ ﴿٤١﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) خبر راکړئ ما ته که راشي تاسې ته عذاب د الله، يا راشي پر تاسې قيامت آيا بې له الله بل څوک به بولئ تاسې (بلکه نه يې بولئ) که يئ تاسې صادقان (رښتينې پخپله وينا کې). بلکه خاص همدغه الله بولئ تاسې، بيا لرې کوي الله له تاسې هغه (مصيبت) چې بولئ تاسې (الله) د هغه لپاره که اراده وفرمايي، او هېروئ تاسې (په وخت د سختۍ کې) هغه (باطل معبودان) چې شريکوئ يې تاسې (له الله سره).

تفسير: کله چې ړانده، کانړه او ګونګيان شئ، او د الله تعالى آيتونه دروغ ګڼئ، او د ګمراهۍ په ژوړې (ښکته) کندې کې ولوېږئ، که په دغه سبب په دنيا يا په قيامت کې په سخت عذاب اخته شئ؛ نو ربښتيا ووايئ چې بې له الله جل جلاله ځنې به تاسې بل کوم يوه ته ناړې وکړئ؟.

د دنيا د ډېرو وړوکيو مصائبو سره هم هر کله چې مخامخ شئ نو مجبورا همغه يو الله جل جلاله ته ناړې کوئ، او نور ګرد (ټول) شريکان ستاسې له يادې وځي: ﴿فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾ له هر هغه چې الله تعالى اراده وفرمايي نو هغه مصيبت ترې لرې کوي، نو له دې ځنې اندازه وکړئ، چې د عذاب له نزوله يا د قيامت له هوله به تاسې پرته د الله تعالى څخه بل څوک وژغوري (وساتي)؟ ! نو بيا دا څومره حماقت او ړوندوالى دى؛ چې د هغه پاک الله عظمت او جلال هېروئ، او د ده د نازل کړى شويو آيتونو تکذيب او د فرمايشي آيتونو غوښتنه کوئ؟ .

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَىٰ أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَخَذْنَاهُم بِالْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ ﴿٤٢﴾ فَلَوْلَا إِذْ جَاءَهُم بَأْسُنَا تَضَرَّعُوا وَلَٰكِن قَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّىٰ إِذَا فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا أَخَذْنَاهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ ﴿٤٤﴾

او خامخا په تحقيق استولي وو مونږ (رسولان) ډېرو امتونو ته پخوا له تا نه (اى محمده ! پس دوى تکذيب وکړ د هغوى) نو ونيول مونږ دوى په سختيو او تکليفونو سره، لپاره د دې چې دوى زاري عاجزي وکړي (خپل رب ته او مؤمنان شي). کله چې راغى دوى ته عذاب ځمونږ نو ولې عاجزي ونه کړه دوى (چې ترې لرې شوى وى عذاب)، او ليکن سخت شوي وو زړونه د دوى(نو ځکه يې ترې عبرت وانخيست) او ښايسته کړي وه دوى ته شيطان هغه کارونه چې وو دوى چې کول به يې. پس کله چې هېر کړ دوى هغه شى چې پند ورکړى شوى وو دوى ته په هغه سره، نو وپرانيست مونږ پر دوى باندې وَرونه (لارې) د هر قسم نعمت، تر هغه پورې کله چې خوشال شو دوى پر هغو شيانو چې ورکړى شوى وو دوى ته (له انواعو د نعمتونو) نو ونيول مونږ دوى ناڅاپه، پس ناڅاپه په دې وخت (د ليدلو د عذاب) کې دوى نااميده شي.

تفسير: الله تعالى ګنهګار ته لږ څه تنبيه ورکوي، که دى ورته په زارى او عاجزى شو، او توبه يې اويسته ـ نو خلاصيږي، او که په هغې سپکې نيونې ويښ نه شو، نو بيا يې په هېره او مغالطه او تفريح کې غورځوي، او د عيش او عشرت او د وسعت دروازې ورپرانيځي، کله چې د نعمتو د شکر ګذارې او د انعام او احسان ځنې د متأثر کېدلو په ځاى ښه په ګناه کې ډوب شو؛ نو ناڅاپه ببخبره نيول کيږي، نو دلته دغه لارښودنه کيږي چې که چا ته پر ګناه تنبيه ورسيږي، نو ژر دې توبه وکړي، او دې ته دې نه ګوري چې که زياته تنبيه وشوه نو زه به يقين وکړم.

فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا ۚ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٥﴾

نو پرې کړى شو ښخ د قوم هغه (قوم) چې ظلم يې کړى وو، او ګردې (ټولې) ثناوې او صفتونه خاص الله لره دي، چې پالونکى د ټولو عالميانو دى (د ظالمانو په هلاکولو سره).

تفسير: د ظالمانو استيصال هم د ده د عامه ربوبيت اثر، او د عالم د مجموعې لپاره لوى رحمت دى، نو ځکه دلته يې د حمد او شکر اظهار وفرمايه.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَٰرَكُمْ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم مَّنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِهِ ۗ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُونَ ﴿٤٦﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) خبر راکړئ ماته که واخلي الله (قوت د) اوربدلو ستاسې (چې کانه شئ) او (قوت د) لیدلو ستاسې (چې ړانده شئ) او مهر ولګوي الله پر زړونو ستاسې (چې نه اوربدلی او نه لیدلی او نه په هیڅ شي پوهېدلی شئ) (نو بل) کوم معبود دی بې له الله نه چې بېرته راوړي (درکړي) تاسې ته هغه (اخستل شوي غوږونه، سترګې، زړونه او عقلونه)، وګوره (ای محمده !) چې څرنګه مونږ راز راز (قسم قسم) بیانوو دلائل (د وحدانیت) بیا (هم) دوی (ترې) څنګ (ډډه) کوي.

تفسیر: «یعنې په توبه کې ځنډ (تأخیر) مه کوئ، ښایي چې دا غوږونه سترګې او زړونه په هغه وخت کې بیا ونه مومئ»، او د هغه له امله د توبې او استغفار توفیق درپیدا نشي.

قُلْ أَرَءَيْتَكُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُ اللَّهِ بَغْتَةً أَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الظَّٰلِمُونَ ﴿٤٧﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) خبر راکړئ ما ته که راشي تاسې ته عذاب د الله ناڅاپه (د شپې) یا ښکاره (د ورځې یعنې په هر شان چې راشي) آیا هلاک به کړی شي (په دغه عذاب سره بل څوک؟) مګر قوم ظالمان (یعنې همدغه مشرکان پرې هلاکیږي).

تفسیر: ناڅاپه یعنې داسې عذاب چې د هغه هیڅ علامې له پخوا څخه درښکاره نه وي، نو له دې سببه د ﴿جَهْرَةً﴾ څخه به مراد هغه عذاب وي، چې د هغه له راتلو څخه د مخه څه علامې یې څرګندې شي، یا به له ﴿بَغْتَةً﴾ څخه شپه او له ﴿جَهْرَةً﴾ څخه ورځ مراد وي (یعنې په هر شان او هر تقدیر سره چې وي).

ځینو مفسرینو د ﴿هَلْ يُهْلَكُ... ﴾ الآیه ـ ترجمه داسې کړې ده: «آیا هلاک به کړی شي پرې څوک هم، یعنې هلاک به نه کړي هغه شی مګر قوم چې ظالمان دي»، یعنې په توبه ایستلو کې ځنډ (تأخیر) کول نه دي پکار، ښایي چې په دغه تعطیل کې د الله تعالی عذاب وروړسیږي، چې د هغه تکلیف یواځې همغو ظالمانو ته ور په غاړه کیږي، که له ظلم او عدوانه یې لا تر مخه توبه ایستلي وي، نو له دې عذاب څخه نجات مومي.

وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ۖ فَمَنْ آمَنَ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٤٨﴾ وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿٤٩﴾

او نه لیږو مونږ رسولان مګر زیري کوونکي (مؤمنانو ته په نعیم سره) او وېرووونکي (کفارو ته په جحیم سره)، پس هر چا چې ایمان راوړ او اصلاح یې کړ (عمل په طاعت سره)؛ نو نشته (هیڅ قسم) وېره په دوی باندې، او نه به دوی (هیڅکله) خپه کیږي (د ثواب په نقصان سره). او هغه کسان چې نسبت د دروغو کوي دوی آیتونو ځمونږ ته، وبه رسیږي دوی ته عذاب په سبب د هغه چې وو چې فسق به یې کاوه (د الله جل جلاله له طاعت څخه په وتلو).

تفسیر: یعنې تاسې چې د الله تعالی د عذاب څخه بې وېرې او بې فکره شوي یئ، او په چتې (بېکاره) فرمایشونو او بېځایه پوښتنو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم خپه کوئ ! او د دوی د تصدیق لپاره له خپله ځانه جوړ کړي معیارونه مو تراشلي دي، ښه وپوهیږئ ! چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله له طرفه د دې لپاره لېږل شوی دی؛

چې فرمان منونکو ته زېرى ورکړي، او نا فرمانان د دوى له انجامه خبردار او هوښيار کړي، بيا نو د هر چا عمل د هغه د لارې مل دى، هر چا چې د انبياوو عليهم السلام په خبرو يقين او باور وکړ، او اعتقاداً او عملاً يې خپل حالت سم او سنبال کړ، حقيقي او دائمي امن، هوسايي (آرام) او اطمينان يې ور په برخه شو، او هغه کسان چې د الله تعالى آيتونه يې دروغ وبلل، او د الله تعالى له هدايته يې مخ واړاوه، د نافرمانۍ او بغاوت له سببه په سخته تباهۍ او لوى عذاب اخته شول «العياذ بالله».

قُلْ لَّآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ ۚ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ ۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ﴿٥٠﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) چې نه وايم زه تاسې ته؛ چې ما سره خزانې د الله دي (چې درکړم تاسې ته هر څه چې غواړئ) او نه (وايم چې زه) پوهېږم په غيب باندې (چې خبروم به تاسې له هر شي نه بې له وحيې) او نه وايم تاسې ته چې په تحقيق زه پرښته يم (چې وکړم په ملکي قوت سره هغه امور چې ملائک يې کوي) نه کوم پيروي (د هيڅ شي) مګر د هغه شي چې وحيې کړى شوې ده ماته (د هغه)، ووايه (اى محمده ! دوى ته) آيا برابر کېدى شي ړوند او ليدونکى؟ (نه ! نه سره برابريږي !) آيا نو فکر (غور) نه کوئ تاسې (چې حق له باطله بېل کړئ ! او ايمان راوړئ؟ !).

تفسير: په دې آيت کې د رسالت د منصب پر حقيقت رڼا اچولې شوې ده، يعنې هر څوک چې د نبوت مدعي دى، د ده دعوى داسې نه وي چې د الله تعالى د مقدراتو ګردې (ټولې) خزانې د ده په قبضه کې دي، چې هر کله له ده څخه د کوم امر خواهش وکړ شي، هغه به يې هرومرو همغسې وکړي، او نورو ته به يې وروښيي !، يا پر ګردو غيبي او ښکاره معلوماتو که د رسالت په فرائضو پورې تعلق ولري يا نه دى مطلع کړى شوى دى چې هر شى ورڅخه وپوښتي؛ همغه سمدلاسه هغوى ته وروښيي، يا دى د بشر له نوعې څخه برسېره کوم بل نوع مخلوق دى؛ چې د بشري لوازمو او خواصو ځنې د خپل برائت او نزاهت ثبوت درورانديې کړي.

کله چې دى (پيغمبر) له دې ګردو خبرو ځنې د يوې خبرې مدعي هم نه دى، نو له ده ځنې د فرمايشي معجزاتو غوښتل، يا د تعنّت او عناد له لارې دا راز پوښتنې کول چې «قيامت به کله راځي؟»، يا د دوى داسې ويل چې: «دا څنګه رسول دى چې ډوډۍ خوري؟ او بازارو ته د پېرودلو او پلورلو (خريد وفروخت) لپاره ځي؟» دغه امور د تکذيب او تصديق لپاره معيار ګرځول صحيح نه دي.

﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ﴾ «ووايه اى محمده ! دوى ته، آيا برابر کېدى شي ړوند او ليدونکى؟ نه، نه برابريږي، ايا نو فکر، غور نه کوئ تاسې ! چې حق له باطله بېل کړئ؟ او ايمان راوړئ؟، يعنې اګر که رسول الله صلى الله عليه وسلم بې د بشر له نوعې ځنې له بلې کومې نوعې څخه نه دى، ليکن د ده او نورو انسانانو په منځ کې د ځمکې او آسمان فرق دى، انساني قوتونه دوه قسمونه دي، علمي ـ عملي، د علمي قوتونو په اعتبار د نبي او غير نبي په منځ کې د ړانده او ليدونکي په شان فرق شته، رسول صلى الله عليه وسلم په خپل قول او فعل او هر يوه حرکت او سکون کې د الله تعالى د رضاء او د رباني حکم تابع او منقاد وي، د سماوي وحيې او د الهي احکامو په خلاف نه هغه کوم قدم پورته کوي، او نه هم د هغې په خلاف خپله ژبه خوځوي، د ده مقدس وجود، اخلاق او اعمال د ژوندانه په ګردو واقعاتو کې د رباني تعليماتو او د الهي مرضياتو رونې تصوير او ډېر ښه ممثل دى، چې د هغه له ليدلو څخه غور کوونکو او فکر کوونکو ته د ده په صداقت او د الله جل جلاله له طرفه د ده په مأمور ګرځېدلو کې لږ څه شک او شبهه نشي پاتې کېدى.

وَأَنذِرْ بِهِ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَن يُحْشَرُوا إِلَىٰ رَبِّهِمْ لَيْسَ لَهُم مِّن دُونِهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٥١﴾

او وويروه (ای محمده !) په دې وحيې سره هغه کسان چې ويريږي دوی له دې چې ټول به کړل شي دوی رب خپل ته، په داسې حال کې چې نه وي دوی ته بې له دغه (الله) هيڅ ولي دوست (ناصر په دنيا کې) او نه شفاعت کوونکی (د عذابونو دافع په آخرت کې مګر د الله په اذن سره) لپاره د دې چې دوی وساتي ځانونه (خپل ستا په دغه اورولو سره له معاصيو).

وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ ۖ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿٥٢﴾

او مه شړه هغه کسان چې بولي دوی (عبادت کوي د) رب خپل په اول د ورځې او په آخر د ورځې (يعنې سبا او بېګا) کې، چې غواړي دوی په دې عبادت سره ليدل د مخ د الله تعالی، نشته په تا له حسابه (د اعمالو) د دوی هيڅ شی، او نه له حسابه (د عمل) ستا په دوی هيڅ شی، نو چې وشړې ته دوی؛ پس شې به ته له ظالمانو څخه.

تفسير: يعنې هر کله چې د دوی ظاهري حال دا راښيي چې دوی شپه او ورځ د الله تعالی په عبادت او رضا غوښتلو کې مشغول دي، نو سم له دې له دوی سره مناسبه معامله وکړئ !، د دوی باطني حال څه دی يا به يې آخر انجام څه کيږي؟؛ د دوی پر دغه تفتيش او محاسبه باندې معاملات نشي موقوفېدی، نه ستاسې دغه حساب د دوی په غاړه دی، او نه د هغو حساب ستاسې په غاړه دی، لهذا بالفرض که تاسې د دولتمندانو د هدايت په طمع داسې غريبان مخلصان له خپله مجلسه وشړئ؛ نو دا به د بې انصافی خبره وي. «د کفارو ځينو سردارانو د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه دا وغوښتل، چې ځمونږ زړونه غواړي چې ستاسې خبرې واورو، ليکن له تاسې سره خوار او غريب کسان (لکه ابن مسعود، بلال، مقداد، عمار، صهيب، خبيب، سلمان رضي الله تعالی عنهم) ناست وي، نو مونږ د هغوی تر څنګ نشو کښېناستلی (که دوی له ځانه ښېرته کړئ؛ نو مونږ به له تا سره کښينو او پاڅو، ګوندې ستا دين هم قبول کړو، او له دوی سره يو ځای په کښاستو شرميږو)، په دې خبره باندې دا آيت نازل شو، يعنې د الله تعالی د طالب لحاظ او خاطر (اګر که غريب هم وي) پر دغو غنيانو او دولتمنو کفارو باندې مقدم دی».

وَكَذَٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لِّيَقُولُوا أَهَٰؤُلَاءِ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّن بَيْنِنَا ۗ أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَعْلَمَ بِالشَّاكِرِينَ ﴿٥٣﴾

او (لکه چې ازمويلي مو وو سابقه امم په اختلاف د احوالو د دوی) همدارنګه ازمويلي دي مونږ ځينې (غنيان) د دې امت په ځينو (نورو فقيرانو) لپاره د دې چې ووايي (دا غنيان): آيا همدا (خواران) فضل کړی دی الله پر دوی په منځ ځمونږ کې (په هدايت سره)، آيا نه دی الله ښه عالم په شکر کوونکو (په نعمت د اسلام بلکه دی، نو ځکه تفضُّلا احسان پرې کوي).

تفسير: يعنې د دولتمندانو ازمويښه يې په غريبانو مسلمانانو وکړه، چې دغو مسلمانانو ته خوار او ذليل ګوري، او تعجب کوي چې آيا دوی څرنګه د الله تعالی د فضل لايق دي، او الله تعالی د دوی زړونو ته ګوري، چې د الله تعالی حق مني.

وَإِذَا جَآءَكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَٰتِنَا فَقُلْ سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَىٰ نَفْسِهِ ٱلرَّحْمَةَ أَنَّهُۥ مَنْ عَمِلَ مِنكُمْ سُوٓءًۢا بِجَهَٰلَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَصْلَحَ فَأَنَّهُۥ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥٤﴾ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْـَٔايَٰتِ وَلِتَسْتَبِينَ سَبِيلُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٥٥﴾

او کله چې راشي تاته (ای محمده !) هغه کسان چې تصدیق کوونکي دي په آیتونو (د قرآن) ځمونږ؛ نو ووایه (ای محمده ! دوی ته): سلام دی پر تاسې، لیکلی (لازم کړی) دی رب ستاسې پر ځان خپل (تفضُّلاً) رحمت (او داسې یې لازم کړی دی چې) بېشکه شان دا دی؛ هر څوک چې وکړي له تاسې ځنې بدي په ناپوهۍ سره (حقیقتاً یا حکماً) بیا توبه وکړي پس له (کولو د) هغې (بدۍ) او اصلاح کړي (نښه کړي عمل خپل) نو بېشکه الله نښه بښونکی (د خطیاتو) ډېر مهربان دی. او همداسې چې مو بیان کړل) په تفصیل سره بیانوو آیتونه او لپاره د دې چې ښکاره شي (حق او ظاهره شي) لاره د ګناهګارانو.

تنبیه: دا یې چې فرمایلي دي: «هر څوک چې په ناپوهۍ له تاسې ځنې بدي وکړي»، ښایي چې له دې ځنې دا غرض وي، چې هر مؤمن چې بدي او معصیت کوي، که په ناپوهۍ وي یا په عمد او قصده سره وي؛ هغه في الحقیقت د هغې بدۍ او ګناه له بد عاقبته تر یوه حده پورې نا واقفه او بېخبره وي چې یې کوي، که دی د ګناه د تباه کوونکو نتائجو څخه په پوره ډول خبر او مستحضر وی، نو ولې به یې د هغې په کولو جرأت کاوه؟.

قُلْ إِنِّى نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ قُل لَّآ أَتَّبِعُ أَهْوَآءَكُمْ قَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) چې بېشکه زه منع کړی شوی یم له دې نه چې عبادت وکړم د هغو شیانو چې عبادت کوئ تاسې (د هغوی) چې غیر دي له الله، ووایه (ای محمده ! دوی ته) چې متابعت نه کوم زه د خواهشونو ستاسې (په عبادت د دوی کې) په تحقیق به ګمراه شم زه په دغه وخت، کې او نه به یم زه له لارې موندونکو څخه.

قُلْ إِنِّى عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّى وَكَذَّبْتُم بِهِۦ ۚ مَا عِندِى مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦٓ ۚ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۖ يَقُصُّ ٱلْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْفَٰصِلِينَ ﴿٥٧﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) بېشکه زه په ښکاره دلیل (حجّت) یم له ربه خپله (چې قرآن او وحي ده) او تاسې دورغ ګڼلی دی هغه دلیل، نشته ما سره هغه (عذاب) چې غواړئ تاسې په تلوار سره هغه، نه دی حکم (په تعجیل او تأخیر د عذاب او نورو کې) مګر (خاص) الله ته دی، بیانوي (الله) حقه (خبره) او دی (الله) خیر (بهتر) د فیصله کوونکو (یا د بیانوونکو) دی.

تفسیر: یعنې ما ته د الله تعالی صاف او صریح شهادت او واضح دلائل را رسیدلي دي، چې د هغو له منلو څخه زه د یوه ویښته په اندازه هم نشم منحرف کېدی، تاسې چې هغه ته د دروغو نسبت کوئ، نو د هغه پای او انجام ته هم فکر وکړئ !.

﴿مَا عِندِى مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦٓ﴾ «نشته له ما سره هغه عذاب چې غواړئ په تلوار سره تاسې هغه» یعنې د الهي عذاب د نزول واک ځما په قدرت کې نه دی لکه چې کفارو ویل: ﴿اللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئْتِنَا

﴿عَذَابٍ أَلِيمٍ﴾ «ای الله ! که دا (پیغمبر او دین ئي) حق وي چې مونږ يې دروغ ګڼو؛ نو له آسمانه پر مونږ تیږې (ګټې) راووروه ! یا پر مونږ سخت عذاب راولېږه !».

قُلْ لَّوْ أَنَّ عِندِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ لَقُضِيَ الْأَمْرُ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ۗ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِالظَّالِمِينَ ﴿٥٨﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) که په تحقیق وی ما سره هغه شی چې تاسې په تلوار سره غواړئ هغه (چې عذاب دی نو) خامخا فیصله شوې به وه جګړه په منځ ځما او په منځ ستاسې کې (په هلاک ستاسې، لیکن تعذیب د الله کار دی) او الله ښه عالم دی په ظالمانو (او په وخت د عذابولو د دوی).

تفسیر: یعنې الله تعالی پر هر چا او په هر وخت او هر ډول چې اراده وفرمایي عذاب لیږي، یا یې نه لیږي، یا ورته د توبې او استغفار توفیق مرحمت فرمایي، دا ګرد د الله جل جلاله په اختیار او قبضه کې دي، او د ما سوا له الله د بل هیڅا حکم او زور نه چلیږي.

وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۚ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ ﴿٥٩﴾

او خاص هم دغه الله سره دي کیلي ګڼې (کنجیانې) د خزانې د غیب چې نه پوهیږي په هغو (بل هیڅوک) مګر (عالم دی پرې) هم دی، او پوهیږي الله په هغه چې په بر (وچه) کې او په بحر (دریاب) کې دي، او نه لویږي هیڅ یوه پاڼه (له ونې) مګر چې عالم دی په هغه الله، او نه (لویږي کومه) دانه په تیارو د ځمکې کې او نه دی هیڅ لوند او هیڅ وچ مګر (ثابت شوي دي) په کتاب مبین (لوح محفوظ) کې.

تفسیر: یعنې د هر شي احوال په لوح محفوظ کې مندرج دي، او هر هغه شیان چې په لوح محفوظ کې دي؛ هغه ټول په علم د الله کې لا له پخوا څخه موجود وو، په دغه اعتبار د دې آیت مضمون حاصل داسې شو چې د ﴿عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ﴾ هیڅ یو وچ او لوند، وړوکی او لوی شی د الله تعالی د ازلي علم له محیط نه خارج کېدی نشي، بناء په دې د دې ظالمانو د ظاهري او باطني احوالو، او د دوی د سزا ورکولو د مناسب وخت او محل پوره او صحیح علم له ده سره شته.

تنبیه: هغه علماء چې «مفاتح» د «مَفْتَح» - بفتح المیم- جمع وایي؛ دوی د «مفاتح الغیب» تر جمه په «غیبي خزانو» سره کړی دی، او د هغوی په نزد چې د مِفتح -بکسر المیم- جمع ده، هغوی د «مفاتح الغیب» ترجمه په غیبي کِیلي ګڼو (کنجیانو) سره کوي.

وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُم بِاللَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَىٰ أَجَلٌ مُّسَمًّى ۖ ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٦٠﴾

او الله هغه (لوی ذات) دی چې وفاتوي (حصاروي او ویده کوي) تاسې په شپه کې، او پوهیږي په هر هغه څه چې کسب کړی وي تاسې په ورځې کې (له طاعت او معصیت څخه) بیا پاڅوي تاسې (له خوبه) په دغه (ورځ) کې چې پوره کړ شي اجل (نېټه) مقرره شوې، بیا خاص هم ده ته بېرته ورتلل ستاسې دي، بیا به خبر کړي (الله) تاسې په (جزاء) د هغه څه چې وئ تاسې چې کول به مو (په دنیا کې له خیر او شره).

تفسير: يعني د شپې د ويدېدلو په وخت کې ظاهري احساس او شعور نه پاتې کيږي، او انسان له خپلې شاوخوا بلکه د خپل جسم له احواله هم بېخبره پاتې وي، ګواکې په دغه وخت کې دغه قوه له ده څخه اخيستی شوې ده، (او پوهيږي الله په هر هغه څه چې کسب کړي دي تاسې په ورځې کې له طاعت او معصيت څخه): يعني په ورځ کې څومره تګ، راتګ، نقل، حرکت، کسب او اکتساب چې واقع کيږي؛ هغه ټول په پوره تفصيل سره د الله تعالى په علم کې موجود دي.

(بيا پاڅوي تاسې له خوبه په دې ورځ کې لپاره د دې چې پوره کړی شئ اجل «نېټه» مقرره شوې)، يعني که ده اراده کړي وي نو تاسې همغسې چې ويده وئ؛ ويده به پاتې وئ، ليکن د مرګ د نېټې تر پوره کېدلو پورې تاسې در ګرده راوينبوي.

(بيا خاص هم ده ته بېرته ورتلل ستاسې دي؛ بيا به خبر کړي دی تاسې په جزا د هغه څه چې وئ تاسې چې کول به مو په دنيا کې له خير او شره)، يعني د ورځې کار او د شپې ويدېدل او بيا سبا پاڅېدل دا هره ورځنۍ منظمه سلسله د دنيوي ژوندون او ورپسې مړ کېدلو او بيا ژوندي کېدلو؛ يوه لنډه نمونه ده، نو ځکه د خوب او بيداری د يادونې په وسيله د «معاد» پر مسئله هم تنبيه کړی شوې ده.

وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً ۖ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُوْنَ ﴿٦١﴾

او همدی (الله) دی غالب د پاسه په بندګانو خپلو، او ليږي پر تاسې ساتونکي (له ملائکو چې هغه ليکونکي د اعمالو ستاسې کرام الکاتبين دي) تر هغه پورې کله چې راشي يو ستاسې ته مرګ؛ قبضوي روح د ده ليږلې شوې (پرښتې ځمونږ چې ستاسې د ارواحو د قبضولو لپاره لېږلې کيږي)، او دوی هيڅ تقصير نه کوي (د امر په امتثال کې د اجل له پوره کېدلو څخه وروسته).

تفسير: «حفظة» يعني هغه پرښتې چې تاسې او ستاسې اعمال ساتي.

فائده: د دغو ملائکو په لېږلو کې ښايي دغه حکمت او مصلحت وي، چې مؤمنان د قيامت له شرمندګۍ او رسوايۍ څخه وويريږي، او له سره ګناه ته زړه ښه نه کړي، او د خپلې اعمالنامې له لوستلو څخه په محشر کې د عامو په محضر کې غافل او بې پروا نشي ! څو د قيامت د ورځې له شرمندګۍ او رسوايۍ څخه مأمون او مصون پاتې شي.

ثُمَّ رُدُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ ۭ اَلَا لَهُ الْحُكْمُ ۡ وَهُوَ اَسْرَعُ الْحٰسِبِيْنَ ﴿٦٢﴾

بيا به بېرته وروستل شي دوی طرف د الله ته (د خپل عمل د جزاء لپاره) چې مولی (مالک) د دوی دی حق (عادل)، واورئ ! خبردار شئ ! خاص هم ده ته دی حکم او همدی دی ډېر تيز جلت دی له ټولو حسابګرو.

تفسير: يعني په يوه رپ (لحظه) کې د انسان د ټول عمر حسنات او سيئات ورښکاره کوي.

قُلْ مَنْ يُّنَجِّيْكُمْ مِّنْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ تَدْعُوْنَهٗ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ۚ لَىِٕنْ اَنْجٰىنَا مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٦٣﴾ قُلِ اللّٰهُ يُنَجِّيْكُمْ مِّنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ اَنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ ﴿٦٤﴾

ووايه (ای محمده !) څوک به خلاص کړي تاسې له تيارو د بر (وچې) او بحر (درياب څخه په هغه وخت کې چې) دعاء غواړئ تاسې له الله نه په ښکاره او په پټه سره (او داسې

وایئ چې قسم دی) که خلاص کړي (الله) مونږ له تیارو (او سختیو) څخه نو هرومرو شو به مونږ خامخا له شکر ایستونکو څخه (د نجات په دغه نعمت). ووایه (ای محمده ! دوی ته) چې الله خلاصوي تاسې له دې (تیارو او سختیو) او له هرې سختې څخه بیا هم (پس له دغه نجاته) تاسې شریکوئ (له الله سره نور په عبادت کې).

تفسیر: یعنې حق تعالی سره له هغه محیط علم او کامل قدرت چې (لږ څه) بیان یې پاس وشو، فوراً ستاسې د بد عملیو او شرارتونو سزا نه درکوي، بلکه څه مهال (وخت) چې د مصائبو او شدائدو په تیارو کې اخته کېږئ، او هغه په عاجزۍ او زارۍ سره یادوئ ! او پخه وعده کوئ چې «د دې مصیبت څخه له وتلو وروسته به بیا هیڅېرې شرارت نه کوو، او تل به ستا احسان په یاد لرو»، نو ډېر ځلې الله جل جلاله ستاسې لاس نیسي، او له دغو مهالکو او هر قسم سختیو څخه مو ژغوري (محفوظوي)، لیکن بیا هم تاسې پخپلو وعدو ټینګ نه دریږئ، او د مصیبت له آزادۍ څخه وروسته بیا سمدلاسه په بغاوت او یاغیتوب لاس پورې کړئ.

قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَىٰ أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ ۗ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ ﴿٦٥﴾

ووایه (ای محمده !) هم دغه (الله) قادر دی په دې چې ولیږي په تاسې عذاب له پاسه ستاسې (لکه د لوط قوم او اصحاب فیل) یا له لاندې د پښو ستاسې (لکه فرعونیان او قارون)، یا ګډ وډ کړي تاسې فرقې فرقې (چې هره فرقه به ببله ببله مدعا لري، او دغه مخالفت به د مقاتلې سبب شي) او وروڅکوي (الله) ځینو ستاسې ته جنګ (او سختۍ) د ځینو (نورو)، وګوره (ای محمده !) څرنګه راز راز (قسم قسم) بیانوو مونږ آیتونه (خپل) لپاره د دې چې دوی پوه شي (پرې او پند ترې واخلي).

تفسیر: په دې کې یې د درې ډولو عذابونو بیان وفرمایه:

(۱) هغه چې له پاسه راځي، لکه د تیږو ورېدل، یا طوفاني هوا یا باران.

(۲) هغه چې له پښو لاندې راځي، لکه خسف، زلزله، سیلاو یا نور (یا مراد له «فوق» څخه نه ورېدل د باران دي، او له «تحت» څخه نه زرغونیدل د غلې دي)، دا دواړه خارجي او باندني عذابونه دي؛ چې پر پخوانیو اقوامو مسلط شوي وو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دعاء سره ځمونږ محمدي امت له داسې عمومي عذاب څخه محفوظ شوي دي، یعنې داسې عام عذاب چې د دې امت استیصال او بیخ کني وکړي، لکه چې په پخوانیو امتونو مسلطېده (بفضل الله وکرمه)؛ په دې امت نه نازلیږي، که جزئي او خصوصي واقعې پېښې شي؛ نو د هغو نفي نه ده شوې.

(۳) عذاب چې ښایي د اخلي عذاب ورته وویل شي، د دې امت په حق کې باقي پاتې دی، چې هغه ګوند او ګوندبازي او په خپلو منځو کې سره جنګ، جنجال، جګړې او وینې تویول دي، په «قرآن شریف کې زیاترو کافرانو ته د عذاب وعده ورکړی شوې ده، دلته یې دا را څرګنده کړه، چې دا هم عذاب دی چې پر پخوانیو امتو باندې له آسمانه یا له ځمکې څخه نازل شوی دی، او دا هم عذاب دی، چې انسانان یو او بل په جنګ سره واچوي، او دوی قتل وکړي، یا یې قید یا یې ذلیل کړي، رسول الله مبارک وپوهېد، چې پر دغه امت وروستنی عذاب نازلیږي.

﴿عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ او ﴿عَذَابٌ مُّهِينٌ﴾ او ﴿عَذَابٌ شَدِيدٌ﴾ او ﴿عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ زياتره همدغه وروستني عذاب ته ويل كيږي، او د آخرت عذاب هم يواځې پر همغو كسانو همېشه مسلط كيږي، چې په كفر كې مړه شوي دي (او مړه كيږي).

﴿انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ﴾ «وګوره اى محمده ! څرنګه مونږ راز راز بيانوو آيتونه خپل لپاره د دې چې دوى پوه شي پرې» يعنې په قرآنكريم يا د عذاب په راتګ، څكه دوى داسې ګڼل چې دا ګردې دروغ او چټې (بېكاره) ويروونكې خبرې دي، عذاب يا نور شيان له سره نه راځي.

وَكَذَّبَ بِهِ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ۚ قُل لَّسْتُ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴿٦٦﴾ لِّكُلِّ نَبَإٍ مُّسْتَقَرٌّ وَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٦٧﴾

او دروغ وباله دا قرآن (يا دغه عذاب) قوم ستا (يعنې قريشو) حال دا چې دغه (قرآن يا عذاب) حق دى، ووايه (اى محمده ! دوى ته) نه يم زه په تاسې وكيل (ساتونكى). هرې خبرې ته يو وخت مقرر دى، او ژر به (پرې) وپوهېږئ تاسې.

تفسير: يعنې څما وظيفه دا نه ده، چې ستاسې په تكذيبونو زه پخپله پر تاسې عذاب نازل كړم، يا د هغه وخت يا نوعيت يا يې نور تفصيلات در وښيم، زما كار يواځې پوهول او تنبيه كول دي، (دا د قتال د امر څخه پخوا وو)، له دې نه زيات د هر شي د وقوع خُصوصيات د الله تعالى په علم كې مقدّر، او وخت يې مقرر دى، هر وخت چې يې نېټه ورسيږي، نو تاسې به خپله پرې خبر شئ، چې هغه شيان چې ما تاسې ترې ويرولى؛ هغه تر كومه ځايه پورې رښتيا دي؟ .

وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ ۚ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَىٰ مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٦٨﴾

او كله چې ووينې ته هغه كسان چې جګړې كوي (طعن ورپورې تړي، مسخرې پرې كوي، ننوځي غوټې وهي) په آيتونو څمونږ كې؛ نو مخه واړوه له دوى نه (او ورسره مه كښينه ! او كه ناست وې ترى پاځېره !) تر هغې پورې چې مشغول شي دوى په خبرو (نورو كې) غير له قرآن څخه، او كه هير كړ له تا نه (دا اعراض او څنګ كول) شيطان؛ نو مه كښينه وروسته له يادېدلو (د دې منعې) سره له قوم ظالمانو.

تفسير: يعنې هغه خلق چې د آيات الله په طعن، استهزاء او په ناحقه تنقيدونو كې مشغول دي، او خپل ځانونه د عذاب مستحق ګرځوي، تاسې له هغو سره ناسته ولاړه مه كوئ ! او ګډون او راشه درشه ورسره مه كوئ !، څو تاسې هم د هغو په ډله كې ګډ نشئ ! او د عذاب مورد ونه ګرځئ !، لكه چې په يو بل ځاى كې فرمايي: ﴿إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ﴾ د يوه مؤمن د غيرت تقاضا دا نه ده، چې په داسې مجلسونو كې ګډون وكړي، لازم دي چې تل ترې كناره او په څنګ وي !، او كه كله ناڅاپه يا سهوا پكې شريك شي؛ نو له يادېدلو څخه وروسته دې له هغه ځايه پاځېږي، څكه چې په همدې كې د عاقبت سمون (برابري)، د دين سلامتي، او طعن او استهزاء كوونكو ته عملي نصيحت او تنبيه ده.

وَمَا عَلَى الَّذِينَ يَتَّقُونَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَلَٰكِن ذِكْرَىٰ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٦٩﴾

او نشته پر هغو كسانو چې پرهېزګاري كوي له حسابه د دغو (جګړه كوونكو په آيات الله تمسخراً) څخه هيڅ شى (له ګناه)، وليكن (دوى باندې) پند ور كول دي لپاره د دې چې ځان وساتي دوى (د هغو كسانو د مجلس له ګډون څخه چې په قرآن پورې تمسخر كوي).

تفسير: د دې آيت دوه معناګانې کېدی شي، يعنې که پرهېزګاران د جګړې کوونکو او طعن ويونکو له مجلس ځخه پاڅېږي، او له دوی ځنې جلا (جدا) کېږي، نو د طاعنينو له ګمراهۍ او د دوی د ضلالت له دوام ځخه هيڅ يوه مؤاخذه او ضرر پر دغو متقيانو نشي راتلی، هو ! د دوی په ذمه د استطاعت په اندازه او له موقع سره مناسب نصيحت کول دي، ښايي چې هغه بدبختان د نصيحت له اورېدلو ځخه په خپل خير او شر وپوهېږي، او له خپله انجامه وويرېږي.

يا دا مطلب دی؛ چې که پرهېزګارانو او محتاطانو ته د کومې معتدّ به ديني يا دنيوي واقعې د ضرورت له امله (وجې) د دوی په مجلس کې د دخول او د ورتګ ضرورت پېښ شي؛ نو دوی ته د طاعنينو د ګناه او پوښتنو هيڅ يو اثر نه ور رسېږي، هو ! د دوی په ذمه د قدرت په شرط نصيحت کول دي، ممکن دي چې کوم وخت په دوی باندې د نصحيت اثر ولوېږي.

وَذَرِ الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَذَكِّرْ بِهِ أَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌ بِمَا كَسَبَتْ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ وَإِنْ تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَا يُؤْخَذْ مِنْهَا أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أُبْسِلُوا بِمَا كَسَبُوا لَهُمْ شَرَابٌ مِنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ

او پرېږده ته هغه کسان چې ګرځولی دی دوی دين خپل (چې پرې مکلف وو) لوبې او عبث (چې پرې مسخرې کوي) او غره کړي (غولولي) دي دوی لره حيات دنيوي (ژوندون لږ خسيس نو ځکه منکران شوي دي له حشره)، او پند ورکوه ته په دغه (قرآن سره خلقو ته) څو (ونه) سپارل شي (هلاک ته) هيڅ نفس په سبب د هغه عمل چې کړی يې وي، حال دا چې نه وي دغه نفس ته بې له الله نه کوم ولي (دوست مانع د آفت په دنيا کې) او نه شفاعتګر (دافع د مصيبت په عقبی کې)، او که فديه ورکړي (دا نفس) هر قسم فديه نو وابه نه خيستی شي دا (فديه، يعنې قبوله به نشي له دې نفس ځخه)، دا (مذکورين چې دين يې په لهو او لعب نيولی دی) هغه کسان دي چې سپارلی شوي دي (هلاک ته) په سبب د هغو کارونو چې کړي دي دوی، شته دوی لره څښل له ډېرو ګرمو اوبو او عذاب دی دردناک په سبب د دې چې وو دوی چې کافران کېدل.

تفسير: ﴿اتَّخَذُوا دِينَهُمْ﴾ يعنې خپل هغه دين چې قبلول يې د دوی په ذمه فرض وو، او هغه د اسلام دين دی.

﴿وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا﴾ «او غره کړي (غولولي) دي دوی لره دنيوي حيات او ژوندون لږ خسيس، نو ځکه منکران شوي دي له حشره»، يعنې د دنيا په لذتونو مست شول، او عاقبت يې هېر کړ، او مطمئن او بېغمه زړه کښيناتل.

﴿لَيْسَ لَهَا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ﴾ الآيه ـ يعنې داسې خلقو ته چې د تکذيب او استهزاء په ګناهونو نيولی شوي دي؛ هيڅ دوست او ملګری نه پيدا کېږي، چې له دوی سره څه مدد او مرسته وکړي، او په زور يې له الهي عذابه وژغوري (محفوظ کړي)، او نه به کوم سپارښت کوونکي ولري، چې په سعيې او سپارښت سره د دوی څه کار وکړی شي، او نه ترې کوم قسم فديه او معاوضه قبليږي، بالفرض که کوم مجرم وغواړي چې ټوله دنيا د خپل عذاب په بدل او معاوضه کې ورکړي، او ځان خلاص کړي؛ بيا هم نشي خلاصيدی.

﴿أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أُبْسِلُوا بِمَا كَسَبُوا﴾ الآيه ـ «دا مذکورين چې دين يې لهو او لعب نيولی دی، هغه کسان دي چې سپارلي شوي دي هلاک ته په سبب د هغو کارونو چې کړي دي دوی»، شته دوی لره څښل (څکل) له ډېرو ګرمو اوبو او عذاب دی دردناک، په سبب د دې چې وو دوی چې کافران کېدل.

قُلْ أَنَدْعُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلَىٰ أَعْقَابِنَا بَعْدَ إِذْ هَدَانَا اللَّهُ كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ الشَّيَاطِينُ فِي الْأَرْضِ حَيْرَانَ لَهُ أَصْحَابٌ يَدْعُونَهُ إِلَى الْهُدَى ائْتِنَا ۗ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَىٰ ۖ وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٧١﴾ وَأَنْ أَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَاتَّقُوهُ ۚ وَهُوَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٧٢﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) آیا عبادت وکړو مونږ غیر له الله نه هغه شي ته چې نه نفع رسولی شي مونږ ته، او نه تاوان رسولی شي مونږ ته؟ !، او بېرته ورګرځولی شو مونږ په پوندو خپلو (شرک) ته وروسته له هغه چې سمه صافه لاره وښوولې مونږ ته الله؛ په شان د هغه سړي چې بیولی وي دی پیریانو په ځمکه (چول بیابان) کې په داسې حال کې چې (له ورکېدلو د لارې) حیران وي، ده لره ملګري وي؛ بولي دوی دا سړی (له ډېره شفقته) په لوري د سمې صافې لارې چې (ورته وایي) راځه مونږ ته !، ووایه (ای محمده ! دوی ته) چې بېشکه هدایت د الله (اسلام) همدا دی هدایت (نه نور)، او امر (حکم) کړی شوی دی مونږ ته چې اسلام راوړو (غاړه کېږدو) رب (پالونکي) د تمامو عالمیانو ته. او بل په دې (حکم شوی دی مونږ ته) چې قائموئ (سم اداء کوئ سره له ټولو حقوقو) تاسې لمونځ او وویرېږئ تاسې له دغه (الله) نه، او دغه الله همغه ذات دی چې ده ته به ورټول کړی شئ تاسې (په قیامت کې).

تفسیر: یعنې د مسلمانانو شان دا دی چې ګمراهانو ته نصیحت وکړي، نو له داسې موحد، مبلّغ، او مجاهد بنده ځنې دا توقع کول فضول ده چې: دی به د ما سوا الله په مخ کې خپل سر ټیټ کړي، چې د دغو غیر الله په قبضه کې نه نفع شته نه نقصان، یا به د اهل باطل د صحبت له امله (وجې) د توحید او ایمان سمه لاره پرېږدي، او د شرک او نورو غلوونکو شیانو په لوري به ژر ژر په خپلو پوندو ولاړ شي، که معاذ الله داسې وشو، نو د ده مثال د هغه مسافر په شان دی، چې په لاره دخپلو بلدو ملګرو سره په یوه چول او بیابان کې سفر کوي، او ناڅاپه بیابانیې غول (خبیث جن) یې وغولوي، او لاره تړې ورکه کړي، دی په ځلورو خواوو کې پرېشان او سرګردان ګرځي، او د ده ملګري د ده د خیر غوښتلو لپاره ورناړې کړي، چې «ځمونږ په لوري راځه ! چې سمه صافه لاره دا ده»، مګر دی د حیرانۍ او مخبوط الحواسۍ په حالت کې په هیڅ شي نه پوهیږي، او د دوی په لوري هم نه ورځي.

همداسې پوهیږئ ! چې د آخرت مسافر ته هم د اسلام او توحید سمه صافه لاره ټاکلې (مقرر) شوې ده، او هغه څوک چې د هغه په رفاقت او معیت سره دغه سفر طي کیږي؛ هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم او د ده تابعان دي، کله چې دا بدبخت د شیطانانو او مضلانو په منګلو کې ورشي، او د ضلالت په بیدیا کې سرګردانه ګرځي، د ده هادیان او رفیقان د همدردۍ له لارې دی د حق د لارې په طرف رابولي، مګر دی هیڅ نه اوري، او نه پرې پوهیږي، نو ای د اشرارو ډلې ! ستاسې هم دا مقصد دی، چې مونږ له خپلو ځانونو څخه همداسې مثال جوړ کړو؟ دا آیت د هغو مشرکانو په ځواب کې نازل شوی دی، چې دوی له مسلمانانو څخه د اسلام د ترک غوښتنه کړې وه.

وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۖ وَيَوْمَ يَقُولُ كُن فَيَكُونُ ۚ قَوْلُهُ الْحَقُّ ۚ وَلَهُ الْمُلْكُ يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ ۚ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۚ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ﴿٧٣﴾

او دغه (الله) همغه ذات دی چې پیدا کړي یې دي آسمانونه او ځمکه په حقه سره (نه بې له فائدې) او (یاد کړه) هغه ورځ چې وبه وایي (الله هر شي ته) چې موجود شه ! (یعنې پیدا شه !) نو موجود (یعنې پیدا) به شي، خبره د دغه (الله) حقه (رښتیا) ده، او خاص دغه (الله) لره دی ملک

(سلطنت) په هغه ورځ کې چې پوکی وکړ شي په صور (شپېلۍ) کې، عالم دی (الله) په ټولو پټو او ښکاروو، او هم دی دی ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي) خبردار (ښه پوه په هر شي).

تفسیر: په دغې ورځې د قیامت کې به په ظاهري او مجازي ډول هم د ما سوا الله څخه د بل چا سلطنت نه وي، ﴿لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ «یعنې هغه الله جل جلاله چې داسې صفات لري، چې ذکر یې په دغو دریو آیتونو کې وشو؛ هغه د دې لایق دی چې مونږ یې د فرمان تابع اوسو، او د ده په مخ کې خپل انتهایي عبودیّت اظهار او اختیار کړو»، او په هره شېبه کې ترې ویریږو، او د همدې خبرې حکم پر مونږ شوی دی؛ چې له دغه حکم څخه په هیڅ حالت کې مخ نشو ګرځولی.

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ آزَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً ۖ إِنِّي أَرَاكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ ﴿٧٤﴾

او (یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چې وویل ابراهیم پلار خپل آزر ته: آیا نیسې ته بتان په ألوهیت سره، بېشکه چې زه وینم تا او قوم ستا په ګمراهۍ ښکاره کې.

تفسیر: ﴿لِأَبِيهِ آزَرَ﴾ «پلار خپل آزر ته»، د انسابو عالمانو د ابراهیم علیه السلام د پلار نوم «تارخ» لیکلی دی، ممکن چې «تارخ» یې نوم او «آزر» یې لقب وي، ابن کثیر «رحمه الله» له مجاهد «رحمه الله» او نورو ځنې نقل کړي دي چې «آزر» د بت نوم وو، ښایي د هغه بت په خدمت کې د ډېر پاتې کېدلو له امله (وجې) د ده لقب «آزر» کېښود شوی وي. والله أعلم.

﴿أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً﴾ الآیه - «آیا ته نیسې بتان په ألوهیت سره، بېشکه چې زه وینم تا او قوم ستا په ګمراهۍ ښکاره کې» له دې نه به صافه او صریحه ګمراهي بله څه وي؟ چې أکرم المخلوقات «انسان» د خپلو لاسونو جوړې کړې تیږو او نورو ته د الله تعالی نوم او درجه ورکړي، او د هغه په مخ کې سر په سجده پریوځي، او له هغه څخه خپل مراد وغواړي.

وَكَذَٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ ﴿٧٥﴾

او (لکه چې مو وروښوده ابراهیم ته د ده د قوم د ګمراهۍ قبحه) همدارنګه ښیو مونږ ابراهیم ته عجائبات د آسمانونو او د ځمکې (لپاره د دې چې دلیل ونیسي په وحدانیت ځما) او لپاره د دې چې شي له یقین کوونکو (عیاناً هم لکه چې وو بیاناً).

تفسیر: یعنې همغسې چې د بت پرستۍ شناعت، قبح او بدي مونږ ابراهیم علیه السلام ته ظاهره کړه، او د هغه قوم مو پرې قائل کړ؛ همداسې د علویّاتو او سفلیّاتو د ترکیبي نظام له اعماقو او نهایت محکمو او عجیبو او غریبو اسرارو څخه مونږ ابراهیم علیه السلام مطلع کړ، چې د هغو په لیدلو د الله تعالی پر وجود او وحدانیت او د الوهیت په نورو صفاتو او د ارضي او سماوي مخلوقاتو پر محکومانه عجز او بېچارګۍ استدلال ونیسي، او د خپل قوم د کواکب پرستۍ او هیکل سازۍ عقیده هم علی وجه البصیرت رد کړي، او دی پخپله هم د حق الیقین په اعلی مرتبه فائز شي.

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ رَأَىٰ كَوْكَبًا ۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّي ۖ فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَا أُحِبُّ الْآفِلِينَ ﴿٧٦﴾

نو کله چې تیاره شوه په ده باندې شپه نو ولید (ابراهیم) یو ستوری، ویې ویل: دا رب ځما دی (ستاسې په زعم سره)، نو کله چې غروب یې وکړ (غائب شو) وویل (ابراهیم): چې زه دوست نه ګنم غروب کوونکي (غائبیدونکي چې په الوهیت یې ونیسم بلکه بد یې ګنم).

تفسير: آيا څوک دا خبره خوښوي چې يو مجبور بندي او بيګاري سړی د شهنشاهی پر تخت باندې کښوي؟.

پاتې شو د «ابراهيم عليه السلام» ﴿هٰذَا رَبِّيْ﴾ ويل؛ يا خو د استفهام انکاري په لهجه دی، يعنې آيا همدا ځما رب دی؟ يا د تهکم (قهر) او تبکيت (سرزنش) په ډول يې ويلي دي، يعنې همدا دی رب ځما ستاسې له عقيدې سره سم، لکه چې موسی عليه السلام فرمايلي دي: ﴿وَانْظُرْ إِلَىٰ إِلٰهِكَ الَّذِيْ ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا﴾ أي في زعمک، پرته له دې نه د مفسرينو نور اقوال هم شته، مګر ځمونږ په خيال همدا راجح ده، والله أعلم.

فَلَمَّا رَأَى الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هٰذَا رَبِّيْ فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَئِنْ لَّمْ يَهْدِنِيْ رَبِّيْ لَأَكُوْنَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّآلِّيْنَ ﴿٧٧﴾

پس کله چې وليده (ابراهيم) سپوږمی راختونکې ځلېدونکې وويل (ابراهيم) دا رب ځما دی (ستاسې په زعم)، نو کله چې غروب يې وکړ (غائبه شوه)؛ وويل (ابراهيم): قسم دی که هدايت ونه کړي ماته رب ځما نو هرومرو (خامخا) به ګرځم ضرور له قومه ګمراهانو.

تفسير: ځرنګه چې سپوږمی ډېر حسين او ځليدونکی ستوری دی، که الله جل جلاله د سړي لاس ونه نيسي نو بېشکه چې انسان د هغه په ځلېدلو او ښايست مفتون کيږي.

فَلَمَّا رَأَى الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هٰذَا رَبِّيْ هٰذَا أَكْبَرُ فَلَمَّا أَفَلَتْ قَالَ يٰقَوْمِ إِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿٧٨﴾

بيا کله چې وليد (ابراهيم) لمر راختونکی (ځلېدونکی) وويل (ابراهيم): دا دی رب ځما (ستاسې په زعم سره) دا (له ګردو څخه) لوی دی، پس کله چې (لمر هم) غروب وکړ (غائب شو)؛ وويل (ابراهيم): ای قومه ځما ! بېشکه زه يم بېزار له هغو شيانو چې تاسې (يې) شريکوئ (له الله سره).

تفسير: يعنې په فلکي نظام کې له ګردو څخه لويه سيّاره لمر دی، مګر دغه ګرد لمر، سپوږمی، ستوری او نور ګرد د الله تعالی مخلوق او د هغه تابعان دي، چې په معين وخت ځمونږ په نظر راځي، او هيڅ يو له دوی څخه داسې قدرت او توان نه لري؛ چې يوه شېبه هم له خپله ځايه څه تقديم او تاخير وکولی شي، يا په خپل سر کوم حرکت وکړي، نو بيا دې مخلوق ته د خالق تعالی حقوق ورکول او شريک ګرځول څومره سپين سترګي او ګستاخي؟ او په کومه اندازه د نفرت وړ (لايق) يو کار دی؟ .

إِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ حَنِيْفًا وَّمَآ أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٧٩﴾

بېشکه ما ګرځولی (متوجه کړی) مې دی مخ خپل هغه ذات ته چې پيدا کړي يې دي اسمانونه او ځمکې، حال دا چې حنيف يم (ګرځېدونکی يم له ګردو باطلو اديانو څخه حق دين ته) او نه يم زه له مشرکانو.

تفسير: يعنې له ګردو مخلوقاتو ځنې يوه لوري ته شوی، صرف د خالق جل وعلا لوی دربار يې ټينګ ونيو، چې د هغه په قدرت کې ګرد علويّات او سفليّات دي.

وَحَآجَّهٗ قَوْمُهٗ قَالَ أَتُحَآجُّوْٓنِّيْ فِي اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنِ وَلَآ أَخَافُ مَا تُشْرِكُوْنَ بِهٖٓ إِلَّآ أَنْ يَّشَآءَ رَبِّيْ شَيْئًا ۗ وَسِعَ رَبِّيْ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ۗ أَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٨٠﴾

او جګړه وکړه له ده سره قوم د ده (په توحيد کې) وويل (ابراهيم) آيا جګړه کوئ تاسې له ما سره په (وحدانيت د) الله کې، حال دا چې په تحقيق هدايت کړی (لاره د توحيد ښوولي ده الله)

ماته، او نه ويرېږم له (ضرره د) هغو (بتانو) چې تاسې يې شريکان کوئ له الله سره (په هيڅ وخت) مګر چې اراده وفرمايي رب ځما د څه (تکليف رسولو ما لره نو رسولی يې شي)، احاطه کړېده رب ځما په ټولو شيانو له جهته د علم، آيا نو تاسې پند نه اخلئ (فکر نه کوئ او عاجز له قادره نشئ بيلولئ؟).

تفسير: د ابراهيم عليه السلام قوم به ويل چې: ته ځمونږ د معبودانو توهين کوې، نو وويرېږه چې چېرې ته د هغه له وباله لېونی نشې (معاذ الله)، يا په بل کوم مصيبت کې اخته نشې، نو د هغه ځواب داسې ورکوي چې: «زه به له دوی نه ولې ويرېږم؟ ځکه چې د دوی په لاس کې نفع، نقصان، راحت او زحمت هيڅ يو شی نشته، هو ! که ځما پروردګار ماته څه تکليف راورسوي؛ نو له هغه څخه په دنيا کې هيڅوک نه دي مستثنی، هم ده ته په خپل محيط علم سره معلومه ده، چې کوم يو سړی په کوم يو حالت کې ښايي ژوندون وکړي، او کوم شی به ورته وړ (لايق) او مناسب وي».

وَكَيْفَ أَخَافُ مَا أَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمْ أَشْرَكْتُم بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا ۚ

او څرنګه به ويرېږم زه له هغو (بتانو) چې شريکان کړي دي تاسې (له الله سره په عبادت کې) او نه ويرېږئ تاسې له دې چې بېشکه تاسې شريک کړی دی له الله سره هغه شی چې نه دی رالېږلی (الله) په (شريک کولو) د هغه پر تاسې هيڅ برهان (دليل سند).

تفسير: يعنې ستاسې له معبودانو ځنې به زه ولې ويرېږم حال دا چې د دوی په واک (اختيار) او قبضه کې نه نفع ده نه ضرر، او نه د توحيد غوره کول کوم جرم دی، چې له هغه څخه به زه اندېښنه کوم، هو ! تاسې د الله تعالی باغيان او مجرمان يئ، او الله تعالی د نفع او ضرر مالک هم دی، نو تاسې ته له خپلو جرائمو ځنې وېره پکار ده.

فَأَيُّ الْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِالْأَمْنِ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨١﴾ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُم بِظُلْمٍ أُولَٰئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٨٢﴾

نو کومه يوه له دې دواړو ډلو څخه مستحقه او لايقه ده په امن سره (له عذابه د الله ووايئ !) که يئ تاسې چې پوهيږئ (په دې چې له چا نه ويره پکار ده؟ کله چې دوی لاځواب شول؛ نو پخپله الله ځواب فرمايي). هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او نه دی ګډه کړی دوی ايمان خپل له ظلم (له لوی نقصان سره چې شرک دی)؛ دغه کسان (چې خپل ايمان يې له شرکه ساتلی دی) هم دوی لره شته امن (له عذابه) او هم دوی دي لار موندونکي.

تفسير: په صحيحو احاديثو کې منقول دي، چې کريم نبي «عليه أفضل الصلاة والتسليم» دلته د ظلم تفسير په شرک سره فرمايلی دی، لکه چې په (٢١ جزء د لقمان د سورت په (١٣) آيت (٢) رکوع کې دي): ﴿إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾ ګواکې د ظلم تنوين د تعظيم لپاره دی، نو د مضمون حاصل به داسې کيږي، چې «مأمون او مهتدي يواځې همغه کسان کېدی شي، چې داسې يقين او ايمان ولري چې په هغه کې د شرک هيڅ اثر او نښه نه وي»، او که سره له ايمان لرلو په الله تعالی شرک پرې نږدي؛ نو هغه شرعي ايمان نه دی، او نه يې د هغه په وسيله امن او هدايت په برخه کېدی شي، وهو کما قال الله تعالی: ﴿وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِاللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ﴾ (١٣ جزء د يوسف عليه السلام د سورت (١٠٦) آيت (١٢) رکوع).

منقول دي کله چې دغه آيت نازل شو؛ اصحاب کرام «رضوان الله تعالی عليهم أجمعين» سخت وويرېدل، او دغه امر پر هغوی ډېر شاق او درونډ واقع شو، بالآخر يې د رسول عليه السلام په حضور کې عرض وکړ، «أينا لم يظلم نفسه يا رسول الله؟» صلی الله عليه وسلم، «په مونږ کې کوم يو سړی به داسې وي چې پر خپل ځان باندې يې ظلم نه وي

کړی»، نو په دغه تقدیر سره مونږ ګرد د الله جل جلاه له عذابه غیر مأمون، او له هدایته محروم شو؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو په ځواب کې داسې ارشاد وفرمایل: «لیس کذلک، إنما هو الشرک، ألم تسمعوا قول لقمان لابنه: ﴿يَٰبُنَيَّ لَا تُشۡرِكۡ بِٱللَّهِۖ إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ﴾»

یعنې په ﴿وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلۡمٍ﴾ کې له ظلم څخه شرک مراد دی، او مطلقه ګناه ترې مراده نه ده، نو په دغه صورت تاسې ته هیڅ تردّد او اندېښنه نه ده پکار، اګر که مفسرینو او محدثینو پر دغه آیت راز راز (قسم قسم) تقریرونه او بیانونه کړي دي، مګر په دغه ترجمه کې د هغو ګرد مطالب په کې ثابت پراته دي.

وَتِلۡكَ حُجَّتُنَآ ءَاتَيۡنَٰهَآ إِبۡرَٰهِيمَ عَلَىٰ قَوۡمِهِۦۚ نَرۡفَعُ دَرَجَٰتٖ مَّن نَّشَآءُۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٞ ٨٣

او دا (چې تېر شو) دلیل ځمونږ دی، چې ورکړی وو مونږ هغه ابراهیم ته په (مقابله د) قوم د ده (چې پرې غالب شي)، پورته کوو مونږ درجې هر چا ته چې اراده وفرمایو (د پورته کولو یې)، بېشکه رب ستا ډېر حکمت والا دی (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي)، ښه عالم (په ټولو احوالو).

تفسیر: یعنې ابراهیم علیه السلام ته داسې قاهره دلائل ورکول، او هغه ته په خپل قوم باندې بری عطا کول، او په دنیا او آخرت کې هغه سرلوړی ګرځول؛ د همغه علیم او حکیم له کارونو څخه کېدی شي، چې د هر سړي استعداد او قابلیت ورته معلوم دی، او پخپل حکمت سره هر شی د هغه په مناسبه موقع اومقام کې ږدي.

وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَۖ كُلّٗا هَدَيۡنَاۚ وَنُوحٗا هَدَيۡنَا مِن قَبۡلُۖ وَمِن ذُرِّيَّتِهِۦ دَاوُۥدَ وَسُلَيۡمَٰنَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَىٰ وَهَٰرُونَۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٨٤

او وبانبه مونږ ابراهیم ته اسحاق (چې د ده ځوی او د اسرائیلي انبیاوو پلار دی) او یعقوب (مو هم وروبانبه چې لمسی یې وو، دغو) ټولو ته هدایت کړی وو مونږ، او نوح ته مو هدایت کړی وو له (ابراهیم څخه) پخوا، او (هدایت مو کړی وو) اولادې د ده ځنې داود او سلیمان ته، او ایوب او یوسف ته، او موسی او هارون ته، او همداسې لکه چې (دغو انبیاوو ته مو بدل ورکړ)؛ بدل ورکوو مونږ محسنانو (نیکو کارانو) ته.

تفسیر: یعنې نه یواځې دا چې مونږ ابراهیم علیه السلام په ذاتي علم او فضل سره سرلوړی کړ، بلکه په زړښت کې د اسحاق علیه السلام په شان ځوی او یعقوب علیه السلام غوندې لمسی مو هم وروبانبه، یعقوب علیه السلام همغه (اسرائیل) دی چې ده ته بني اسرائیل منسوب دی، چې په زرهاوو انبیاء په کې مبعوث شوي دي، بلکه همغسې چې د قرآن کریم په یو بل ځای کې مذکور دي، وروسته له ابراهیم علیه السلام د الله تعالی له جانبه نبوت اکثر د ده په اولاده کې اینبود شوی دی.

وَزَكَرِيَّا وَيَحۡيَىٰ وَعِيسَىٰ وَإِلۡيَاسَۖ كُلّٞ مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٨٥ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَٱلۡيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطٗاۚ وَكُلّٗا فَضَّلۡنَا عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ٨٦ وَمِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡ وَإِخۡوَٰنِهِمۡۖ وَٱجۡتَبَيۡنَٰهُمۡ وَهَدَيۡنَٰهُمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٨٧ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهۡدِي بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۚ وَلَوۡ أَشۡرَكُواْ لَحَبِطَ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٨٨

او (هدایت مو کړی وو) زکریا او یحیی ته او عیسی او الیاس ته، دوی ګرد (ټول) دي له صالحانو (کاملانو) ځنې. او (هدایت مو کړی وو) اسماعیل او الیسع ته، او یونس او لوط ته، او دا ټولو ته فضیلت ورکړی وو مونږ پر تمامو عالمیانو. او (فضیلت مو ورکړی وو په نبوت او اسلام سره)

ځينو ته له پلرونو د دوی، او له اولادې د دوی او له وروڼو د دوی، او غوره کړي وو مونږ دا ټول انبیا او لار ښوونه کړې وه مونږ دوی لره لارې سمې صافې ته. دا (دین د انبیاوو) هدایت د الله دی چې لار ښوونه فرمایي (الله) په دې سره هغه چاته چې اراده وفرمایي له بندګانو خپلو نه، او که (فرضاً) شریک کړی وای دوی له (الله سره نور) نو خامخا به ضایع شوي وای له دوی نه هغه عمل چې وو دوی چې کاوه به یې.

تفسیر: یعنې د خالص توحید او د الله تعالی د معرفت او طاعت سمه صافه لاره همغه ده؛ چې پر هغې الله تعالی خپل مقبول بندګان په خپل فضل او توفیق سره بیایي، او په صله او جزا د هغه کې د دوی درجې د دوی استعداد او لیاقت سره سم لوړوي.

﴿وَلَوْ أَشْرَكُوا﴾ الآیه: دا مونږ ته خبر راکړی شوی دی، چې شرک (داسې لویه ګناه ده چې) د انسان تمام ښه عملونه حبط او باطلوي، د نورو به څه حیثیت پاتې شي که معاذ الله په فرض محال سره داسې حرکت د پیغمبرانو او مقرّبانو څخه صادر شي؛ د دوی عمل به هم ضایع شي، (امّا صدور یې له دوی څخه متوقع نه دی، لکه چې مو په فرض محال سره دې خبرې ته اشاره وکړه).

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ۚ فَإِن يَكْفُرْ بِهَا هَٰؤُلَاءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوا بِهَا بِكَافِرِينَ ﴿٨٩﴾

دغه (تېر پیغمبران) هغه کسان دي چې ورکړي دي مونږ دوی ته کتابونه او حکمت (علم د شریعت) او پیغمبري، پس که کافر (منکر) شي په دې (آیتونو د قرآن) دغه (کافران د مکې) پس په تحقیق مقرر کړي مونږ په (ایمان او عمل) د دې داسې یو قوم (ټولګی) چې نه دي دوی په دې (قرآن) کافران.

تفسیر: یعنې که د مکې کافران یا نور منکران له دې شیانو (کتاب، شریعت، او نبوت) څخه انکار وکړي، نو ځمونږ دین په هغو پورې موقوف او ترلی نه دی، ځکه چې مونږ یو بل قوم چې مهاجرین او انصار رضي الله تعالی عنهم او اتباع د دوی دي؛ لپاره د منلو، ساتنې، او ترویج د دې شیانو مقرر کړي دي، چې دوی ځمونږ د هیڅ خبرې څخه مخ اړونکي نه دي.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ ۖ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ ۗ قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْعَالَمِينَ ﴿٩٠﴾

دغه (انبیاء) هغه کسان دي چې هدایت کړی دی الله (دوی ته) نو په طریقه د دوی اقتداء وکړه (ای محمده !) ووایه چې زه نه غواړم له تاسې په دغه (تبلیغ د قرآن) څه اجر (مزدوري) نه دی دا (قرآن) مګر یواځې ذکر (پند، وعظ) دی لپاره د ټولو عالمیانو.

تفسیر: یعنې ګرد انبیاء علیهم السلام په عقائدو او د دین په اصولو او کلّي مقاصدو کې سره متحد دي، نو د ګردو دستور یو دی، او هر یو نبي د هغو پر عمل مأمور دی، تاسې هم مأمور یئ چې پر همغې مستقیمې طریقې تګ وکړئ !.

ګواکې په دې آیت سره یې تنبیه وکړه چې په اصولي ډول ستاسې لاره د سابقینو انبیاوو له اصولو او لارې بېله نه ده، پاتې شول فرعي اختلافات نو هغه د هرې زمانې د مناسبت او استعداد په اعتبار پخوا له دې هم واقع کېدل، که اوس هم واقع شي؛ نو هیڅ مضائقه نه لري.

فائده: د اصولو علماوو د دې آیت د عموم څخه دغه مسئله ایستلې ده، چې که نبي کریم صلی الله علیه وسلم په کومه معامله کې د سابقه وو شرائعو ذکر وفرمایي؛ نو هغه د ده د امّت په حق کې هم سند دی، په دې شرط سره چې شارع له هغه څخه په کلّي یاجزئي ډول سره انکار نه وي فرمایلی.

﴿قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا﴾ الآیه - «ووایه ! چې زه نه غواړم له تاسې څخه په تبلیغ د قرآن څه اجر (مزدوري) او اجرت غوښتونکی نه یم، ځما اجر خو د الله تعالی په دربار کې ثابت دی، هو ! که تاسې له نصیحت څخه انحراف وکړئ، نو خپلو ځانونو ته به نقصان ور رسوئ، په ګرد جهان کې یو نه یو خو به دا نصیحت ومني، هر هغه څوک چې انکار وکړي؛ هغه به خپل ځان ته نقصان ورسوي، او ښایي چې په خپلې دغې محرومی، بدبختی او بدحالی وژاړي.

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖٓ اِذْ قَالُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِّنْ شَيْءٍ ۗ قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِيْ جَآءَ بِهٖ مُوْسٰى نُوْرًا وَّهُدًى لِّلنَّاسِ تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِيْسَ تُبْدُوْنَهَا وَتُخْفُوْنَ كَثِيْرًا ۚ وَعُلِّمْتُمْ مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنْتُمْ وَلَآ اٰبَآؤُكُمْ ۖ

او نه دی کړی تعظیم دغو (یهودانو) د الله په حق تعظیم د ده سره کله چې وویل دوی چې: نه دی نازل کړی الله پر هیڅ بشر (انسان) باندې هیڅ شی، ووایه (ای محمده دوی ته !) چا نازل کړی وو کتاب هغه چې راوړی وو هغه موسی، حال دا چې نور (رڼا) او هدایت دی لپاره د خلقو، چې ګرځوئ تاسې هغه (کتاب) پاڼه پاڼه، ښکاره کوئ یې (خلقو ته هغه چې ستاسې خوښې وي) او پټوئ تاسې ډېرې (تري چې ستاسې نه وي خوښې لکه محمدي نعت)، او ښوولي شوي دي تاسې ته هغه (احکام د تورات) چې پوه نه وئ (پرې) تاسې، او نه پلرونه ستاسې.

تفسیر: ﴿مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِّنْ شَيْءٍ﴾ الآیه - یعنې نه کتاب نه وحي او نه شرعي احکام، بلکه هیڅ شی الله تعالی نه دي رالیږلي.

﴿قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِيْ جَآءَ بِهٖ مُوْسٰى﴾ یعنې که په رښتیا سره الله تعالی پر هیڅ یو انسان هیڅ یو شی نه دی نازل کړی، نو د «مقدس تورات» په شان یو عظیم الشأن کتاب له کومه راغی؟ چې په الهي احکامو او مرضیاتو یې بندګان خبرول، او د رشد او هدایت عجیبه عجیبه رڼا یې په خپل منځ کې لرله، او د هغو شیانو علم یې تاسې ته درعطا کاوه، چې پرې نه تاسې او نه ستاسې پلار نیکه بلکه ټول انبیاء علیهم السلام حتی ټول بني آدمان هم بې د الله تعالی له اعلامه تش په خپل عقل او حواس نه پوهیدل، او چا هغه په موسی علیه السلام نازل کړی؟.

دا منل کیږي چې نن ورځ تاسې هغه کتاب پانې پانې او ټوک ټوک کړی دی، او خلقو ته مو سم له خپلې خوښې سره ښوولی دی، او د هغه ډېر احکام او اخبار مو پټ کړي دي، او د هغه اصلي رڼا همغسې چې وه؛ اوس نه ده پاتې، بیا هم هغه برخه یې چې پاتې ده، همغه دا رابنیي، کله چې د هغې عظیم الشأنې مانۍ کنډوالې هم داسې دي، نو الله خبر چې په خپله زمانه کې به یې عروج څومره عظیم الشأن وو؟ (نو کله چې دوی د دې سوال ځواب تاسې ته ای ځما رسوله در نه کړی، نو پاک الله فرمایي چې:

قُلِ اللّٰهُ ۙ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِيْ خَوْضِهِمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿٩١﴾

ووایه (ای محمده !) چې الله (نازل کړی وو ! بل ځواب نشته) بیا پرېږده دوی چې په خرافاتو خپلو کې لوبې کوي (او په باطلو خپلو کې غوپې وهي؛ مشغولیږي).

وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ مُبَارَكٌ مُّصَدِّقُ ٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنذِرَ أُمَّ ٱلْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا ۗ وَٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ وَهُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴿٩٢﴾

او دا قرآن هغه کتاب دی چې نازل کړی دی مونږ هغه برکتناک (فائده ناک) تصدیق کوونکی د هغه (کتابونو) دی، چې وړاندې له ده دي، او لپاره د دې چې وویروې ته اصل د ټولو کلیو (کلو) (یعنې اهل د مکې) او هغه چې چاپېر دي له دې او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی (یقین یې کړی دی) په آخرت؛ ایمان لري دوی په دغه (قرآن یا په محمد) حال دا چې هم دوی په لمونځونو خپلو ساتنه کوي (د ټولو حقوقو د دوام او رعایت سره یې).

تفسیر: ﴿وَلِتُنذِرَ أُمَّ ٱلْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا﴾: «او لپاره د دې چې وویروې ته اصل د ټولو کلیو (کلو، یعنې مکیان ـ مکې والا) او هغه چې چاپېر له دې دي»، «أم القری» د کلیو (کلو) اصل او ببخ ته وایي.

مکه معظّمه د ځمکې عربو دیني او دُنیوي مرجع وه، له جغرافیایي حیثیته هم د پخوانی دنیا د وسطي مرکز په ډول واقع ده، نوې دنیا (امریکا) ترې لاندې پرته ده، د حدیثو د روایاتو په مطابق له اوبو ځنې ځمکه جوړه شوې ده، نو لومړی همدغه ځای څرګند شوی وو، نو بنا پر دغو وجوهاتو مکه معظمه په «أم القری» سره یاده کړه شوه، او له شاوخوا څخه یې مراد یا عرب دي، ولې چې په دنیا کې لومړني مخاطبان همدوی وو، او د دوی په وسیله د دنیا نورو خلقو ته خطاب وشو، یا به ځمکې کرد جهان مراد وي.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ قَالَ أُوحِىَ إِلَىَّ وَلَمْ يُوحَ إِلَيْهِ شَىْءٌ وَمَن قَالَ سَأُنزِلُ مِثْلَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ۗ

او څوک دی ډېر ظالم؟ (یعنې هیڅوک نشته) له هغه چا نه چې ترې پر الله دروغ، یا وایي چې وحي کړی شوې ده ماته، حال دا چې وحي نه وي کړی شوي ده ته د هیڅ شي، او (بل څوک دی ډېر ظالم یعنې نشته له) هغه چا چې وایي: ژر به (زه هم) نازل کړم (وبه لیکم له ځانه) په مثل د هغه کتاب چې نازل کړی دی الله (تاته ای محمده ! چې قرآن دی).

تفسیر: پر الله جل جلاله له بهتان ترلو څخه ښایي دا مراد وي، چې د الله جل جلاله په لوري د داسې خبرې نسبت وکړي؛ چې د ده د لوړ شان سره هیڅ نسبت ونه لري، او وړ (قابل) او لایق یې نه وي، مثلا یو مخلوق له هغه سره شریک وګرځوي، یا ورته د ځوی او ښځې تجویز وکړي، یا داسې ووایي: ﴿مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٍ مِّن شَىْءٍ﴾ یعنې الله تعالی د بندګانو د هدایت هیڅ سامان نه دی مهیأ کړی، نو هر څوک چې داسې ووایي؛ سخت ظالم دی، همداسې هغه څوک چې د نبوّت او د رسالت دعوی په دروغو سره وکړي، یا داسې یوه غټه خبره وکړي، چې د الله تعالی د کلام په شان زه هم خبرې راوړی شم، لکه چې ځینو مشرکانو به ویل: «ولو نشاء لقلنا مثل هذا»، دا ګردې خبرې انتهایي ظلم او بد سترګي ده، چې د هغې د سزا حال لږ څه وروسته راځي.

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِى غَمَرَٰتِ ٱلْمَوْتِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓا۟ أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوٓا۟ أَنفُسَكُمُ ۖ

او که وویني ته (ای محمده !) ظالمان یعنې کافران په هغه وخت کې چې ظالمان په (باطني او روحاني) سختیو د مرګ کې وي، حال دا چې پرښتې (د عذاب) غځوونکې وي د لاسونو خپلو (د روح د قبض لپاره نو وایي دوی ته چې) راوباسئ تاسې ارواح خپل (چې یې قبض کړو مونږ که یې ایستی شئ یا یې له عذابه وباسئ !).

تفسير: يعني د روح قبضولو او سزا ورکولو لپاره لاسونه غځوي، او د زيات تشديد او د غيظ د اظهار لپاره وايي چې راوباسئ خپل ارواح.

اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنْتُمْ عَنْ اٰيٰتِهٖ تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٩٣﴾

نن ورځ به جزا درکړه شي تاسې ته عذاب سپکوونکی (يعني چې له سخت تکليف سره ذلت او رسوايي هم وي) په سبب د هغه چې وئ تاسې چې ويل به مو پر الله (وينا) ناحقه او وئ تاسې چې له آيتونو د ده څخه به مو تکبّر کاوه (او نه به مو منل، نو وبه ګورئ يوه قبيحه منظره).

تفسير: يعني د تکبر له لارې د الله تعالى آيتونه او نښې دروغجنې کوئ (او وبه ويل شي کفارو ته کله چې بيا ژوندي شي په قيامت کې داسې چې)

وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا فُرَادٰى كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّتَرَكْتُمْ مَّا خَوَّلْنٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُوْرِكُمْ ۚ وَمَا نَرٰى مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ اَنَّهُمْ فِيْكُمْ شُرَكٰٓؤُا ۭ لَقَدْ تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنْكُمْ مَّا كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿٩٤﴾

او خامخا په تحقيق راغلي يئ تاسې مونږ ته يواځې (لپاره د حساب او جزا) لکه چې پيدا کړي مو وئ تاسې اول ځلې، او پرېښودل تاسې (په دنيا کې) هغه (شيان) چې درکړي وو مونږ تاسې ته وروسته د شاوو خپلو، او نه وينو مونږ له تاسې سره شفاعت کوونکي ستاسې، هغه چې ګمان کولو تاسې چې بېشکه دوی په (تربيه او استحقاق د عبادت) ستاسې کې شريکان دي (له الله سره) خامخا په تحقيق پرې شو (هغه پيوند چې وو) په منځ ستاسې کې، او ورک شو له تاسې څخه هغه شی چې وئ تاسې چې ګڼل به مو (چې دا شفيعان دي).

تفسير: ﴿وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا فُرَادٰى﴾ «او په تحقيق راغلي يئ تاسې مونږ ته يواځې يواځې لکه چې مو پيدا کړي وئ اول ځلې، يعني نه به ستاسو په تن جامې وي، او نه به ستاسې په پښو پښې وي، ما ته به تش تور لاس رائئ، او پر هغو سازونو او سامانونو مو چې فخر او ويار کولو، هغه مو له ځانه سره نه دی راوړی، او هلته مو پرېښئ دی.

﴿وَمَا نَرٰى مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ﴾ الآيه - يعني هغه شيان چې تاسې د مصيبت او اړتيا (احتياج) په وخت کې د خپلې مرستې (مدد) لپاره تاکلي (مقرر کړي) وو؛ هغوی چېرې لاړل؟ چې نن مونږ دوی ستاسې د حمايت او سپارښت (سفارش) او مرستې (مدد) لپاره حاضر نه وينو، او د نصرت او حمايت هغه ګردې علاقې او اړيکې له منځه ورکې دي، چې تاسې پرې لافې او باتې وهلې.

اِنَّ اللّٰهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى ۭ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ ۭ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿٩٥﴾

بېشکه الله چوونکی (څيروونکی) د دانې دی (په ايستلو د ډکې (تېغ) سره) او د زړې (په ايستلو د نيالګي - تيغي سره) راباسي ژوندی له مړې (لکه شين ډکی له وچې دانې، ولد له نطفې، مؤمن له کافر، عالم له جاهل نه) او ايستونکی د مړې دی له ژوندي (لکه وچه دانه له شين ډکي، نطفه له حيوان، کافر له مؤمن، جاهل له عالم نه)، دغه (ژوندی کوونکی او مړ کوونکی) الله دی، نو کوم طرف ته ګرځولی شئ تاسې؟ (د الله له عبادت څخه).

تفسير: يعني زړی او دانه يې په ځمکه کې د خښولو څخه وروسته چولی، او څيرلی او تک شين ډکی تړې زرغونوي، له ځانداره د بې ځانه، او له بېځانه د ځانداره ايستل داسې دي؛ لکه چې انسان له نطفې او نطفه له انسان څخه پيدا کوي،

دا د همدې الله تعالى كار دى، بيا تاسې چې هغه پر برېدئ نو چېرې ځئ؟ آيا بل داسې كوم لوى ذات موندلى شئ چې د داسې قدرتونو او كمالاتو څښتن (مالك) او دا ډول لوى كارونه په سر ور رسولى شي؟ .

فَالِقُ الْإِصْبَاحِ ۚ وَجَعَلَ الَّيْلَ سَكَنًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ حُسْبَانًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ﴿٩٦﴾

چوونكى (د رڼا) د سبا دى (بيوونكى د تيارو د شپې، راوستونكى د رڼا د ورځې) او ګرځولې يې ده شپه آرامځى او (ګرځولې يې دى) لمر او سپوږمى (نښې د) حساب (لپاره د اوقاتو)، دغه (ذكر شوي شيان) اندازه كول دي د ښه غالب (قوي په انفاذ د احكامو) ښه عالم (خبردار په تدبير د عالم).

تفسير: يعنې د شپې له تيارو څخه د صبح صادق هغه تك سپين تار چې راڅرګندېږي، د هغه رايستونكى هم دا پاك الله دى، د شپې او د ورځې، د لمر او سپوږمى، د ستورو او نورو حكيمانه نظام، او د دوى د تګ او رفتار هغه شمېر او حساب چې ده ټاكلى او مقرر كړى دى، په هغه كې د يوه وينښته په اندازه هم لاندې باندې او زياتوالى او نقصان له سره نه پېښېږي.

وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ النُّجُومَ لِتَهْتَدُوا بِهَا فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٩٧﴾

او دغه (الله) همغه (ذات) دى چې پيدا كړى يې دي تاسې ته ستوري لپاره د دې چې لاره وموميئ د هغو (په وسيله) سره په تيارو د بر (وچې په بيابانونو كې) او (په تيارو د) بحر (درياب) كې، په تحقيق ښكاره بيان كړي دي مونږ آيتونه (د قدرت او توحيد خپل) لپاره (د هغه) قوم چې پوهيږي (او پرې استدلال كولى شي).

تفسير: يعنې په دوى سره بلا واسطه لاره معلومه كړئ، يا بالواسطه لكه قطب ښوونكى او نور جغرافيايي آلات.

وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَمُسْتَوْدَعٌ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَفْقَهُونَ ﴿٩٨﴾

او دغه (الله) هغه ذات دى چې پيدا كړي يې يئ تاسې (ګرد ـ ټول) له نفس يوه څخه (چې آدم دى) نو (شته تاسې ته يو) ځاى د قرارى (په شاګانو د پلرونو يا په سر د ځمكې كې) او يو ځاى د امانت (د مور په نس يا په قبر كې)، په تحقيق ښكاره بيان كړي دي مونږ آيتونه (قدرت او توحيد خپل) لپاره د هغه قوم چې ښه پوهيږي (او پرې استدلال كولى شي).

تفسير: «مستقَرّ» د درېدلو هسې ځاى چې په هغه كې هستوګنه وشي، او «مستودع» د سپارلو او د امانت كېښودلو ځاى ته وايي، دا يې لغوي معنى شوله، د دې دواړو د مصداق په تعيين كې دمفسرينو اختلاف دى، خو ځمونږ هغه مضمون ډېر ښه خوښېږي؛ چې شاه صاحب په «موضح القرآن» كې ليكلى دى: «يعنې لومړى سپارلى كيږي د مور ګېډې ته چې هلته ورو ورو دنيوي أثرات په كې پيدا كړي، بيا يې دنيا ته راولي، او دلته ورته هستوګنه او تقرّر وركوي، بيا يې قبر او هديرې ته سپاري، او ورو ورو هلته د أخروي ژوندون اثرات په كې پيدا كوي، او بيا قرار ورته بخښي په جنت كې يا يې وراچوي په دوزخ كې».

وَهُوَ الَّذِيٓ أَنزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ نَبَاتَ كُلِّ شَيۡءٖ فَأَخۡرَجۡنَا مِنۡهُ خَضِرٗا نُّخۡرِجُ مِنۡهُ حَبّٗا مُّتَرَاكِبٗا وَمِنَ النَّخۡلِ مِن طَلۡعِهَا قِنۡوَانٞ دَانِيَةٞ وَجَنَّٰتٖ مِّنۡ أَعۡنَابٖ وَٱلزَّيۡتُونَ وَٱلرُّمَّانَ مُشۡتَبِهٗا وَغَيۡرَ مُتَشَٰبِهٍۗ ٱنظُرُوٓاْ إِلَىٰ ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثۡمَرَ وَيَنۡعِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكُمۡ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٩٩

او دغه (الله) هغه (ذات) دی چې نازلې (راښکته) کړي يې دي له (طرفه د) آسمانه اوبه، نو رايستلي دي مونږ په دې (اوبو) سره زرغونه د هر شي (زرغونيدونکي)، نو رايستلي دي مونږ له هغه (زرغونه) څخه شين (کښت فصل) چې بيا راباسو مونږ له دې (شنه ډکي) څخه دانې يو په بل سورې (لکه وږې)، او (راباسو) له (جنسه د) خُرما څخه (داسې خُرما چې راووځي) له غلافه (د وږي) د هغې څخه وږي نژدې (ځمکې ته يايو د بل سره) او (راباسو) باغونه د انګورو او (راباسو) زيتون (خونه) او انار، په دې حال چې يو له بل سره مشابه وي (په پاڼو کې)، او نه وي متشابه (بلکه ببل وي په خوند کې)، وګورئ تاسې طرف د مېوې د هرې ونې ته کله چې مېوه ونيسي، او پوخوالي د هغې ته، بېشکه په دغو (تېرو ټولو) کې خامخا دلائل (د قدرت او توحيد) دي لپاره د هغه قوم چې ايمان لري (تصديق کوي).

تفسير: ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكُمۡ﴾ الآيه ـ «بېشکه په دې تېرو ټولو کې خامخا دلائل د قدرت او توحيد دي لپاره د هغه قوم چې ايمان لري او تصديق کوي»، د الله تعالى هغه صفات او افعال او د قدرت مظاهر چې په دې رکوع کې بيان شوي دي؛ د ده پر وجود، وحدانيت، او کامل الصفات والي واضح استدلال دی، مګر که غور وکړ شي؛ نو د وحيې او د نبوت مسئله هم تر ډېره ځايه پورې ترې حل کيږي، ځکه کله چې حق تعالى پخپل فضل او رحمت سره ځمونږ د دنيوي ژوندون، او د مادي حوائجو د انتظام او انصرام لپاره دومره ارضي او سماوي اسباب مهيا کړي دي؛ نو داسې ويل به څومره غلط او چټې (بېکاره) وي، چې ځمونږ د اخروي او روحاني ضروریاتو د پوره کولو هيڅ وسيله او سامان يې نه دی پيدا کړی، يقينا هغه کريم رب چې ځمونږ د جسماني غذا د ودې او نشونما لپاره له آسمانه اوبه راښکته کړي دي؛ نو ځمونږ د روحاني تغذيې لپاره يې هم د نبوّت او وحيې باران نازل کړی دی، لکه چې پاک الله د بر او بحر په تيارو کې د ستورو په وسيله ظاهري هدايت او لارښوونه کوي، نو څرنګه امکان لري، چې د باطني هدايت او لارښوونې لپاره يو ستوری هم د روحانيت په آسمان کې نه وي رونړ کړی؟ !.

پاک الله وروسته د شپې له تيارې بيا د صبح صادق رڼا راولي، او مخلوقاتو ته يې موقع ببنلې ده، چې په خپلو دنيوي کارونو او چارو کې د لمر او سپوږمۍ له رڼا څخه په يوه معين حساب سره منتفع او مستفيد شي، نو بيا څنګه ويلى کېدی شي چې د کفر، شرک، ظلم، عدوان، فسق فجور او نورو په تپه تياره شپه کې د هغه مطلق هادي له لوري هيڅ يوه د هدايت کومه سپوږمۍ نه ده پيدا کړې؟ ! او نه يې د صبح صادق نور خپور (خور) کړی، او نه د هغې شپې د خاتمه ورکولو لپاره يې کوم لمر راخېژولی دی.

وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ ٱلۡجِنَّ وَخَلَقَهُمۡ وَخَرَقُواْ لَهُۥ بَنِينَ وَبَنَٰتَۢا بِغَيۡرِ عِلۡمٖۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ ١٠٠

او مقرر کړي دي (کفارو) الله ته شريکان جنيان (پيريان) حال دا چې پيدا کړي دي (الله) دغه (جن او شياطين هم) او ترې (جوړوي ځينې کفار) لپاره د الله ځامن او لونې بې له علمه (له خپل جهالت نه)، پاکي ده الله لره (له ګردو عيبونو) او ډېر پورته دی (شان د ده) له هغو (بدو خبرو) چې بيانوي (يې ورته) دوی.

تفسير: له «جن» څخه دلته مراد «شياطين» دي، څرنګه چې د کفر او شرک ارتکاب د شيطان په اغواء سره کيږي، نو ځکه د ده په اغواء او اضلال د غير الله عبادت کول ګواکې د هغه عبادت وشو، ابراهيم عليه السلام د بت پرستۍ د تردید په ضمن کې فرمايلي وو: ﴿يَٰٓأَبَتِ لَا تَعۡبُدِ ٱلشَّيۡطَٰنَ﴾ (د مريم سورت ٣ رکوع)، په سورت يس ٦٠ آيت ٤ رکوع ٢٣ جزء کې ارشاد شته چې: ﴿أَلَمۡ أَعۡهَدۡ إِلَيۡكُمۡ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعۡبُدُواْ ٱلشَّيۡطَٰنَ﴾ ، ملائکې به په قيامت کې فرمايي: ﴿قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِمۖ بَلۡ كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٱلۡجِنَّۖ أَكۡثَرُهُم بِهِم مُّؤۡمِنُونَ﴾ (٢٢ جزء د سبأ سورت، (٥) رکوع، (٤١) آيت).

يا به له جن څخه د جنياتو قوم مراد شي، چې د دوی له ځينو مشرانو ځنې به د جاهليت په زمانه کې استعانت او پناه غوښتل کېده: ﴿وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٞ مِّنَ ٱلۡإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٖ مِّنَ ٱلۡجِنِّ﴾ (٢٩ جزء د الجن سورت (٦) آيت (١) رکوع).

په هر حال هغوی پخپله ځمونږ په شان د الله تعالى عاجز مخلوق دی، نو سره له مخلوقيته به دوی څه رنګه د خالق تعالى شريکان شي.

﴿سُبۡحَٰنَهُۥ﴾ الآيه - يعنې الله جل جلاله پاک دی له شرکت څخه، او د الله تعالى شان ډېر پورته او لوړ دی، او له ترکيب او تحليل څخه بيخي پاک او منزّه دی، نو د پلار او ځوی تصور د ده په نسبت څرنګه کېدی شي؟ .

بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُۥ وَلَدٞ وَلَمۡ تَكُن لَّهُۥ صَٰحِبَةٞۖ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ١٠١

(الله) بې له نمونې پيدا کوونکی د آسمانونو او د ځمکې دی، څرنګه به وي ده ته ځوی، لور، حال دا چې نشته ده ته هيڅ ښځه، او پيدا کړی دی (الله) هر شی او هم دی پر هر شي ښه عالم (ښه دانا) دی.

تفسير: تعجب دی ! لکه چې تاسې حقيقتاً د الله لپاره اولاد ټاکئ (خوښوئ)، نو د ده د اولاد لپاره به مور څرنګه تجويزوئ؟ او د دې مور تعلّق به له الله تعالى سره په څه ډول سره قبلوئ؟.

نصرانيان مسيح عليه السلام ته د الله تعالى ځوی وايي، ليکن داسې جسارت هغوی هم نشي کولی، چې صدّيقه بي بي مريمه (العياذ بالله) د «الله تعالى» ښځه وبولي، او د مېړه (خاوند) او ښځې په تعلقاتو قائلان شي، کله چې داسې نه ده؛ نو د «بي بي مريمې» له ګډې ځنې پيدا شوی هلک څرنګه د الله تعالى ځوی کېدی شي؟.

په دنيا کې نور کوچنيان (ماشومان) هم پاک الله د دوی د ميندو له ګډو ځنې پيدا کوي، او دوی (معاذ الله) د الله تعالى نسلي اولاد نه ګڼل کيږي، او دا فرق چې يو هلک يواځې له (جبرئيلي) نفخې څخه بيا د عادي اسبابو له واسطې څخه پيدا کړ شي، او نور د عامو اسبابو په سلسله پيدا کړل شي، د أبوّت او بنوّت (پلارتوب او ځويتوب) پر مسئله هيڅ يو اثر نشي اچولی، دغه تخليق که په اسبابو يا مسبباتو سره وي، يا د خارقه عاداتو په وسيله؛ د دغو ګردو خالق همغه پاک الله دی، او همغه پوهيږي چې د کوم شي پيدا کول په څه ډول او په څه وخت له مصلحت او حکمت سره سم دي.

ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ فَٱعۡبُدُوهُۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ١٠٢

همدغه (ذات موصوف په دغو صفاتو سره) الله دی رب ستاسې، نشته هيڅ معبود (لايق د عبادت) مګر هم دی، دی پيدا کوونکی دی د هر شي؛ نو عبادت کوئ د دغه (الله يواځې) او هم دی پر هر شي وکيل (ساتونکی کار جوړوونکی) دی.

تفسير: ښايي د الله جل جلاله عبادت د دې له امله (له وجې) وکړی شي، چې دی د پورتنيو ذکر شوو صفاتو له سببه په ذاتي طور سره د معبوديت استحقاق لري، او له دې وجهې هم چې د ځردو مخلوقاتو کار جوړول هم د ده په قدرت او اختيار کې دی.

لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ ۖ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ ﴿١٠٣﴾

نشي موندلی (او احاطه نشي کولی) پر الله سترګې، او الله مومي سترګې (وينې يې او يا احاطه کوي په سترګو) او هم دی نهايت مهربان او نهايت باريک بين، ښه خبردار دی.

تفسير: شاه صاحب د دې مطلب داسې اخيستی دی چې: «په سترګو کې دا قوت نشته چې الله تعالی وګوري، هو ! که دی د لطف او کرم له لارې د خپل ځان د ښکارولو اراده وفرمايي؛ نو سترګو ته همغسې قوت هم ورعطا کوي»، مثلا په آخرت کې به مؤمنانو ته حسب المراتب د الله جل جلاله رؤيت ور په برخه کيږي، لکه چې د کتاب له نصوصو او سنتو ځنې ثابته ده.

د سلفو مفسرينو څخه ځينو د ادراک معنی په احاطې سره کړېده، يعنې سترګې له سره هغه نشي احاطه کولی، او په آخرت کې به رؤيت وي، او احاطه به نه وي، هو ! د ده شان هم دا دی، چې په ځردو ابصارو او مبصراتو يې احاطه کړېده، په دې تقدير سره د «لطيف» تعلق به له ﴿لَا تُدْرِكُهُ﴾ سره، او د «خبير» ارتباط به له ﴿وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ﴾ سره وي.

قَدْ جَاءَكُم بَصَائِرُ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَنْ أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهِ ۖ وَمَنْ عَمِيَ فَعَلَيْهَا ۚ وَمَا أَنَا عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ ﴿١٠٤﴾

(ووايه ای محمده ! دوی ته) په تحقيق راغلي دي تاسې ته واضح دلائل له طرفه د رب ستاسې؛ نو هر څوک چې ووينې (دغه واضح دلائل او ايمان پرې راوړي) نو نفع يې د خپل ځان ده، او هر څوک چې ړوند شو (له دغو دلائلو او ايمان پرې رانه وړي، نو ضرر يې) په ده (بار) دی، او نه يم زه په تاسې ساتونکی (چې ستاسې اعمال به ساتم، او بيا به تاسې ته پرې جزا درکوم، بلکه زه رسول الله يم، او پر ما تش تبليغ دی).

تفسير: اګر که مونږ پاک الله نشو ليدلی، مګر د ده بصيرت زياتوونکې علامې او دلائل ځمونږ په مخ کې شته، هر څوک چې خپلې سترګې پرانيځي؛ نو ضرور الله تعالی مومي، او هر څوک چې له خپل ځانه ړوند جوړ کړي، نو دی به خپل ځان ته تاوان ورسوي، آيا دا ځما په غاړه ده چې څوک خامخا ليدلو ته مجبور کړم؟ .

وَكَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ وَلِيَقُولُوا دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهُ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٥﴾

او همداسې راز راز (قسم قسم) بيانوو مونږ آيتونه (لپاره دعبرت) او لپاره د دې چې ووايي دغه (کفار چې) لوستلي زده کړي دي تا (له بل چا څخه) او لپاره د دې چې واضح بيان کړو دا قرآن لپاره د هغه قوم چې پوهيږي.

تفسير: يعنې خپل آيتونه له مختلفو خواوو، او په عجيبو او غريبو ډولونو سره ځکه بيانوو؛ چې تاسې يې ځردو خلقو ته ورسوئ، او په دوی کې به د استعدادونو او احوالو له اختلاف څخه دوه ډلې جوړې شي، ضد کوونکي او ناپوهان خو به داسې وايي چې داسې علوم او معارف او مؤثر مضامين د يو اُمّي او نالوستي سړي له خولې څرنګه وځي؟ ! هرومرو (خامخا) به دی په مختلفو وختونو کې دا خبرې له بل چا څخه زده کوي، او بيا يې مونږ ته اوروي، مګر پوهانو او انصاف لرونکو او حق خوښوونکو خلقو ته حق ضرور واضح کيږي، او داسې شيطاني شُکوک او شبهات زائليږي.

(يا دا چې دا تېر آيتونه بيا بيا بيانوو په مقتضى د بالغه حكمت خپل سره، پس له دې هم كله له خوفه كله له رجا، كله له وعده كله له وعيده، چې اوريدونكي پرې عبرت واخلي، او چې دا قسم وينا د بشر له مقدوره خارج ده، او لپاره د دې چې بيان كړو دا قرآن لپاره د هغه قوم چې مؤمنان دي په دې چې دا كلام الله دى).

اِتَّبِعْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٠٦﴾

پيروي كوه (اى محمده !) د هغه حكم (قرآن) چې وحي كړى شوى دى تاته له رب ستا، نشته هيڅ لايق د عبادت مګر هم دى، او مخ ګرځوه له مشركانو (او په خبرو يې پروا مه كوه).

تفسير: يعنې تاسې پر واحد الله جل جلاله اعتماد ولرئ ! او د ده پر حكم تګ وكړئ ! او د مشركانو له جهل او عناده سترګې واړوئ !، او داسې انديښنه مه كوئ ! چې و لې دوى د هسې روښانو واضحو دلائلو او بيانانو د اورېدلو سره بيا هم په سمه لاره نه راځي؟.

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَآ اَشْرَكُوْا ۭ

او كه اراده فرمايلي وى الله (د عدم شرك د دوى)؛ نو شرك به نه وى كړى دوى.

تفسير: يعنې د حق تعالى تكويني حكمت د دې مقتضي نه دى چې دې ګرد عالم په جبر سره مؤمنان كړي، بېشكه كه اراده وفرمايي نو پر ګرد جهان كې به يو مشرك هم پاتې نشي، ليكن له شروع څخه د انساني فطرت نظام يې داسې اينبى دى، چې كه انسان كوښښ وكړي نو يقيناً هدايت قبلولى شي، خو بيا هم په منلو باندې يې بيخي مجبور او مضطر نه دى.

وَمَا جَعَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۚ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿١٠٧﴾

او نه يې ګرځولى مونږ ته پر دوى ساتونكى (څارونكى د اعمالو د دوى)، او نه يې ته پر دوى وكيل (كتونكى چې په ايمان يې مجبور كړې).

تفسير: يعنې ستاسې فرض تبليغ او د الهي احكامو اتّباع ده، د دوى د اعمالو ذمه وار او ځواب ويونكى خو تاسې نه يئ.

وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَيَسُبُّوا اللّٰهَ عَدْوًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ ۭ

او كنځل مه كوئ (اى مؤمنانو !) هغو (معبودانو) ته چې عبادت كوي دغه (كفار د هغو) بې له الله؛ نو كنځل به وكړي دوى (هم) الله ته په ناحقه سره بې له پوهې (له خپل جهالته).

تفسير: يعنې تاسې خپل تبليغ او نصيحت فرمايئ ! او خپل فرض په ښه ډول سره ادا كړئ !، وروسته له دې نه كه بيا هم دوى په خپل كفر او شرك باندې دوام وكړي؛ نو د هغه مسئوليت د دوى په غاړه دى، او ذمه واري يې پر تاسې نشته، هو ! دا خبره ضروري ده چې تاسې پخپله بې ضرورته د دوى د زيات كفر او تعنّت سبب ونه ګرځئ، مثلا فرض يې كړئ، كه د دوى د مذهب تردید، يا د بحث او مناظرې په سلسله كې تاسې په غصه شئ، او د دوى باطلو معبودانو او مقتدايانو ته سبّ او كنځل وكړئ؛ چې د دې نتيجه به داسې شي، چې هغوى به هم په ځواب كې ستاسې د بر حق معبود په نسبت بې ادبي كوي، او له جهالته به ده ته زياړې او كنځلې كوي، په دې صورت كې به د خپل واجب التعظيم معبود د اهانت سبب تاسې پخپله وګرځئ، نو ځكه له دې نه تل احتراز وكړئ !.

دکوم مذهب د اصولو او فروعو اغلاط په معقولې طریقې سره ښکارول، یا د هغه پر کمزورۍ او رکاکت په تحقیقي او الزامي طریقو سره تنبیه کول ښه شی دی، لیکن د کوم قوم د لویانو او معبودانو په نسبت د تحقیر او توهین په ډول زړه دردوونکې خبرې ښې نه دي، او پاک قرآن هغه له سره جائز نه بولي.

كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٠٨﴾

په شان د دغه (ښایست د عبادت د بتانو دوی ته) ښایسته کړی مونږ هر امت (فرقې) ته عمل د دوی (نېک وي که بد)، بیا به رب د دوی ته بیا ورتګ د دوی دی (په آخرت کې) پس خبر به کړي (الله) دوی په هغه شي چې وو دوی چې کاوه به (یې په دنیا کې نو په جزا به یې رسوي).

تفسیر: یعنې څرنګه چې دنیا دار الامتحان دی؛ او د هغې نظام مونږ داسې اینبی دی، او داسې اسباب مو سره راټول کړي دي، چې دلته هر قوم پخپلو اعمالو، دودونو، او دستورونو نازیږي، او فخر پرې کوي، او د انسان دماغ داسې نه دي جوړ شوي؛ چې فقط د صداقت پر قبلولو او منلو باندې مجبور شي، او د غلطۍ په لوري د تللو هیڅ ځای ورته پاتې نه وي.

هو ! کله چې د پاک الله په دربار کې حاضر شي او له ګردو (ټولو) حقائقو سره مخامخ شي، نو هلته به وپوهیږي، او د دې خبرې پته به ورته ولګیږي، چې هغه کارونه چې په دنیا کې یې کړي دي څرنګه وو؟

وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِن جَاءَتْهُمْ آيَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا ۚ قُلْ إِنَّمَا الْآيَاتُ عِندَ اللَّهِ وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَا إِذَا جَاءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠٩﴾

او قسمونه خوري دغه (کفار) په الله باندې په ډېرو سختو قسمونو خپلو سره چې خامخا که راغله دوی ته هغه معجزه (چې یې غواړي دوی) نو هرومرو (خامخا) به ایمان راوړي پرې، ووایه (ای محمده ! دوی ته): بېشکه خبره دا ده چې معجزې په نزد د الله دي (او زه نه یم پرې قادر)، او څه شي خبر کړي یئ تاسې (ای مؤمنانو بلکه بې خبره یئ چې) بېشکه دا (مطلوبې) معجزې کله چې راشي (دوی ته) (بیا هم) نه راوړي ایمان دوی.

تفسیر: ځینو مسلمانانو ته داسې خیال پیدا شو، چې ډېر ښه ! که د دوی دا غوښتنې پوره شي، او دغه حجت هم تمام شي، نو څه کیږي؟ لهذا د دې په نسبت فرمایي، چې تاسې نه یئ خبر چې دغه سرکښان او ضد کوونکي کسان د دې فرمایشي علامو له لیدلو نه وروسته بیا هم ایمان راوړونکي نه دي، او بیا به سم له سنت الله سره دوی د دې خبرې مستحق وګرځي، چې فوراً پوښنا شي، لکه چې د دې سورت په شروع کې مو په تفصیل سره هغه ولیکل: (فرمایشي معجزې لکه دا چې د صفا غر زر وګرځوي یا نور).

وَنُقَلِّبُ أَفْئِدَتَهُمْ وَأَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا بِهِ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَنَذَرُهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١١٠﴾

او آړوو مونږ زړونه د دوی (له قبلولو د حق نه) او سترګې د دوی (له لیدلو د حق نه، نو ایمان نه راوړي) لکه چې ایمان یې نه دی راوړی (په نورو معجزاتو) اول واري، او پرېږدو مونږ دوی په ګمراهۍ د دوی کې، حال دا چې دوی متحیران او متردّدان وي.

تفسیر: یعنې کله چې په کفر او سرکښۍ باندې همېشه والی او دوام وشي؛ نو نتیجه به یې داسې کیږي، چې مونږ د دوی زړونه او سترګې کړه وو، بیا د حق د پوهېدلو او لیدلو توفیق نه مومي، «په موضح القرآن» کې راغلي دي چې الله جل جلاله هغو کسانو ته چې هدایت ورکوي؛ په همغه اول ځلې چې حق آوري، هغه په انصاف سره قبلوي، او هغه چې له اوله ضد او هنډه کوي، که علامې یې هم وګوري؛ نو څه حیلې او پلمې (تدبیرونه) ورته جوړوي.

وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَا إِلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتَىٰ وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ ﴿١١١﴾

او که بېشکه مونږ رالېږلي مو وی دغو (کفارو) ته (په غوښتنه د دوی) پرښتې، او خبرې کړي وی له دوی سره مړیو (لکه چې دوی وایي)، او جمع کړي وی مونږ دوی ته هر شی (چې په دنیا کې دي) مخامخ؛ نو نه به وو دغه (کفار) چې ایمان راوړي (په هیڅ وخت کې) مګر (په وقت د) ارادې فرمایلو د الله (د ایمان د دوی) ولیکن زیات د دوی جاهلان دي (نه پوهیږي).

تفسیر: د ﴿وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ﴾ ترجمه ځینو مفسرینو داسې کړې ده: «لیکن زیات مسلمانان نه پوهیږي په دې چې دغه کفار ایمان نه راوړي، اګر که داسې معجزې هم ووینې»، او ځینې مفسرین داسې ترجمه کوي: «ولیکن اکثر د دې کفارو نه پوهیږي په نه راوړلو د ایمان خپل باندې؛ اګر که راوړلی شي دوی ته داسې معجزې هم).

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الْإِنسِ وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُورًا ۚ وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١١٢﴾

او همداسې ګرځولي (پیدا کړي) وو مونږ هر نبي ته دښمن شیطانان د انس (انسانانو) او د جن (پیریانو)، ورښوولې به (او وسوسه به یې آچوله) ځینو د دوی ځینو (نورو) ته، ښایسته کړی شوی خبرې لپاره د غولولو، او که اراده فرمایلي وای رب ستا، نو نه به وو کړي دوی دا (کارونه چې د زخرف وحي او غرور دی)، پس پرېږده دوی او هغه چې دوی له ځانه دروغ جوړوي (چې کفر دی).

تفسیر: همداسې چې دغه مشرکان اومعاندان په داسې چټې فرمائشونو تاسې ربړوي (تکلیف درکوي)، او په راز راز (قسم قسم) حیلو او پلمو (بهانو) د حق له لارې د خلقو ښویول غواړي؛ همداسې د نورو رسولانو په مقابل کې هم شیطاني قوتونو کار کولو، تر څو هغه رسولان هم پرې نږدي، چې پخپلو پاکو مقاصدو (د خلق الله هدایت) کې بریالي (کامیاب) شي.

وَلِتَصْغَىٰ إِلَيْهِ أَفْئِدَةُ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوا مَا هُم مُّقْتَرِفُونَ ﴿١١٣﴾

او لپاره د دې چې میل وکړي دې دروغو ته زړونه د هغو کسانو چې ایمان نه راوړي په آخرت (قیامت باندې) او لپاره د دې چې خوښ (هم) کړي دا دروغ، او لپاره د دې چې وکړي دوی (له ګناهونو) هغه چې دوی یې کسب کوونکي دي (چې پرې کړه شي).

أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ الَّذِي أَنزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتَابَ مُفَصَّلًا ۚ وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُ مُنَزَّلٌ مِّن رَّبِّكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿١١٤﴾ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا ۖ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١١٥﴾

آیا پس بې له الله وغواړم زه حکم کوونکی عادل (چې ځما او ستاسې په منځ کې فیصله وکړي)، حال دا چې دغه (الله) هغه (ذات دی) چې نازل کړی (رالېږلی) یې دی تاسې ته کتاب (قرآن) حال دا چې واضح کړی شوی دی (په کې حق او باطل)، او هغه کسان چې ورکړی

دی مونږ دوی ته کتاب پوهیږي دوی چې بېشکه دا (قرآن) نازل کړی (رالېږلی) شوی دی له (لوري د) رب ستا په حقه سره، نو مه کېږه (ای سامعه !) هیڅکله له شک کوونکو (په قرآن کې). او تمامه شوې ده خبره د رب ستا له جهته د صدق (رښتینوالي) او له جهته د عدل (انصاف یعنې کمال ته رسېدلی دی صدق د اخبارو او عدل د احکامو د ده)، نشته هیڅ بدلوونکی د خبرو د الله، او هم دی دی ښه اورېدونکی (د ټولو اقوالو) ښه خبردار (په ټولو احوالو).

تفسیر: یعنې د «شیاطین الانس والجن» تلبیس او تلمیع ته یواځې جاهلان او بد عقیدګان انسانان غوږ ږدي، یواځې رسول صلی الله علیه وسلم او د ده متابعت کوونکو چې په هره مسئله او معامله کې فقط یو الله جل جلاله خپل منصف او حَکَم منلی دی، آیا له دوی ځنې د دې خبرې هیله (امید) کېدی شي چې دوی به الله تعالی پرېږدي، او د بل چا تر اثر لاندې به راشي؟، حال دا چې د پاک الله له لوري داسې معجز او کامل کتاب دوی ته نازل شوی دی؛ چې د ګردو (ټولو) اصولي شیانو ضروري توضیح او تفصیل په کې موجود دی، چې د هغه په نسبت د کتابیانو عالمان د پخوانیو کتابونو د بشاراتو په اساس معلومات لري، او ښه پرې پوهیږي چې په یقین سره دا پاک قرآن اسماني کتاب دی، نو د داسې محفوظ او مکمل قانون او لوی کتاب له موجودیت سره څرنګه یو صادق مسلمان د وسوسو او اوهامو یا محض عقلي قیاساتو او مغویانه مغالطاتو ښکار کېدی شي؟

وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ۚ إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿١١٦﴾

او که متابعت وکړې (ته) د زیاترو د هغو کسانو چې په ځمکه کې دي (له کفارو جهلاوو) نو وابه اړوي دوی تا (ای محمده !) له لارې د الله، او نه کوي پیروي دوی مګر د ګمان، او نه دي دوی مګر دروغ ترې (پر الله).

تفسیر: مشاهده او تاریخ دا راښیي چې په دنیا کې فهیم او محقق او با اصوله انسانان تل لږ وو، او اکثریت د همغو خلقو وو؛ چې تش د خیالي، بې اصولو، او چټې (فضول) خبرو پیروي به یې کوله، که ته د دغه اکثریت خبرو ته غوږ کېږدې، او پر بې اصولو خبرو باندې تکې شروع کړې، نو د الله تعالی د درښوولې سمې صافې لارې څخه په یقین سره بې لارې کېږې.

د دې خبرې مخاطبه اګر که له تاسې سره ده، خو في الحقیقت نورو ته آورول کیږي، د جاهلانو او عامو خلقو له دغو بې اصولو او چټې (فضولو) خبرو ځنې یوه دا وه، چې هغو د ذبیحې پر مسئلې باندې تنقیدونه کول، او سره ویل به یې: «هغه ساکښ (حیوان) چې په خپل مرګ ومري، یعنې مردار شي، دغه ته مسلمانان مردار وایي، حال دا چې هغه د پاک الله وژلی شوی ساکښ (ذي روح) دی، بالمقابل دوی هغه مذبوحه حلاله ګڼي؛ چې پخپله یې ذبحه کړي وي، نو دا عجیبه کار دی»، د دې خبرې ځواب په وروستنیو آیتونو کې ورکړی شوی دی، چې: ﴿فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ﴾.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ مَنْ يَضِلُّ عَنْ سَبِيلِهِ ۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿١١٧﴾ فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ بِآيَاتِهِ مُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾

بېشکه رب ستا هم دی ښه عالم (دانا) دی په هغه چا چې ښوییدلي دي له لارې د ده، او هم دی ښه عالم (دانا) دی په سمې لارې صافې موندونکو. نو وخورئ تاسې له هغه مذبوحې څخه چې یاد کړی شوی وي نوم د الله پر هغې باندې که یئ تاسې په آیتونو د الله ایمان لرونکي.

تفسير: کله چې د دې واضحو او صحيحو دلائلو په بنا تاسې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نبوت او د قرآن کريم حقانيت تسليم کړ، او په کلي ډول سره مو د هغه پر احکامو ايمان راوړ، نو اوس د هغه د فروعو او جزئياتو د صحت تسليمول هم ضروري دي، که د هر اصل او فرع او کلي او جزئي شيانو قبول ځمونږ پر قياس باندې موقوف وي؛ نو د وحيې او د نبوت ضرورت هيڅ نه پاتې کيږي.

وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ ۗ

او څه مانع دي تاسې ته چې نه خورئ تاسې له هغې مذبوحې څخه چې ياد کړی شوی دی نوم د الله پر هغې (په وخت د ذبحې کې) حال دا چې په تحقيق واضح کړي دي (الله) تاسې ته هغه چې حرام کړي دي پر تاسې (او دغه مذبوحه باسم الله له هغو څخه نه ده) مګر هغه محرمات چې اړ (محتاج) کړی شوئ تاسې (خوراک د) هغو ته (دهغی خوراک تاسو ته روا دی).

تفسير: يعنې د اضطراري او مجبوري حالت په استثناء هغه شيان چې حرام دي، د هغو تفصيل (په ٦ جزء د المائده سورت په (٣) آيت اوله رکوع کې) تېر شوی دی، په هغو کې هغه ساکښان (ذي روح) نه دي داخل؛ چې د پاک الله په نامه ذبح کړی شوي وي، نو بيا له هغه څخه نه خوړل په څه دليل دي؟ او څه سند لري؟

وَإِنَّ كَثِيرًا لَيُضِلُّونَ بِأَهْوَائِهِمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِينَ ﴿١١٩﴾

او بېشکه ډېر له خلقو خامخا ګمراه کوي (خلق په تحليل او تحريم) په نفسي خواهشاتو خپلو بې له پوهې (او تحقيقه او برهانه، له جهله)، بېشکه رب ستا هم دی ښه عالم (دانا) دی په تېرېدونکو (له شرعي حدودو څخه).

تفسير: ځمونږ د مسلمانانو عقيده دا ده چې هر شی بالواسطه يا بلا واسطه هم دا پاک الله يې پيدا کوي، او هم دا پاک الله يې وژني، بيا همغسې د ده د پيدا کړو شيانو ځنې د ځينو شيونو خوړل مونږ ته مرغوب او مفيد دي، لکه مڼه، انګور، انار، خرما، انځر، مټه، سنتره، مالټه او نورو، او له ځينو شيانو ځنې نفرت او کرکه کوو يا يې مضر ګڼو، لکه ناپاک او ګنده شيان او زهر اوسنکهيا او نور.

هم داسې د پاک الله وژلي شوي شيان هم پر دوه قسمونو دي: يو هغه چې سليم فطرت ترې نفرت کوي، يا يې خوراک ځمونږ بدني يا روحي روغتيا ته د الله تعالى په نزد مضر وي، مثلا هغه مړ حيوان (وينه لرونکی ساکښ «ذي ورح») چې په خپل طبيعي مرګ (پخپل سر) مړ شي، او د ده وينه په غوښه کې جذبه شوي پاتې شي، بل هغه حلال او طيب ساکښ (ذي روح) چې له شرعي اصولو سره سم د پاک الله په نامه ذبح شوی وي، نو دغه مذبوحه هم د الله تعالى وژل شوی حيوان او ساکښ دی، چې يوه مسلمان د چرې په وسيله حلال کړی وي، مګر د ذبح د عمل او د پاک الله د نامه په برکت (او د هغې مذبوحې د تخصص په نوعيت سره) يې غوښه پاکه، صافه او سپېڅلې شوې ده، نو هر هغه سړی چې دغه دواړه قسمونه سره يو شی ګڼي، هغه معتدي (له حده تېرېدونکی) دی.

وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَكْسِبُونَ الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا يَقْتَرِفُونَ ﴿١٢٠﴾

او پرېږدئ تاسې ظاهره (ښکاره) ګناه او باطنه (پټه) ګناه (يعنې مطلق ګناه پرېږدئ !)، بېشکه هغه کسان چې کسب کوي د ګناه (ظاهراً يا باطناً) ژر به سزا ورکړه شي دوی ته په سبب د هغو ګناهونو چې وو دوی چې کسب کاوه به (يې).

تفسير: «يعنې ښايي د کفارو په ښوولو او ښويولو باندې نه په ښکاره ډول سره عمل وکړئ، او نه پخپلو زړونو کې څه شک او شبهه پيدا کړئ.

لکه پخوا چې وليکل شو مشرکانو مرداره حلاله ګڼله، او ويل به يې چې: «ای مؤمنانو ! هغه حيوان چې پخپله مړ کيږي، د هغه وژونکی څوک دی؟» مؤمنانو به ويل چې: «الله تعالی»، نو مشرکانو به بيا ويل چې: «تعجب دی هغه شی چې انسانان ښکاري سپي، باز او بانبه او نور يې وژني هغه تاسې حلال ګڼئ ! او هغه چې الله تعالی يې وژني، هغه حرام بولئ ! دا ولې؟»، نو ددی جواب کې الله تعالی فرمائي:

وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ ۗ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰ أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ ۖ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ ﴿١٢١﴾

او مه خورئ تاسې له هغې (مرداړې) چې نه وي ياد کړی شوی نوم د الله پر هغې باندې (عمداً) او بېشکه چې دا خوراک خامخا ګناه ده، او بېشکه شيطانان خامخا وسوسې اچوي دوستانو خپلو ته (چې کفّار دي) لپاره د دې چې جګړه وکړي دغه (کفّار) له تاسې سره (ای مسلمانانو !) او که اطاعت وکړئ تاسې د دوی نو بېشکه تاسې به (هم) خامخا مشرکان شئ.

تفسير: «يعنې مه خورئ له هغه مړ حيوان څخه چې پرې نه وي ياد کړی شوی نوم د الله تعالی نه حقيقتاً او نه حکماً»، يعنې شرک يواځې هم دا نه دی چې د ما سوا الله عبادت وکړ شي؛ بلکه شرک په حکم کې دا هم دي: چې کوم شی په تحليل او تحريم کې شرعي استناد پرېښود شي، او تش د خپلو آراوو، هوسونو او افکارو تابع شي، لکه چې د ﴿اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ﴾ په تفسير کې مرفوعاً منقول دي چې: «کتابيانو د الله تعالی وحي پرېښي وه، او يواځې د احبارو او رهبانو وينا يې د تحليل او تحريم مدار او اساس ګرځولې وه».

لکه چې د بخاري او مختصر الزّبيدي شروح ځينې د هِرَقل د حديث په متعلق، او ځينې په کتاب التفسير کې ليکي؛ چې عدي بن حاتم وويل: «چې مونږ خو احبارو او رهبانانو ته عبادت نه دی کړی»، رسول اکرم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې: «دا هم عبادت دی چې په تحليل او تحريم کې يواځې د دوی متابعت وکړئ».

أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَافِرِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢٢﴾

آيا هر هغه څوک چې وي مړ (په کفر يا جهل) نو ژوندی کړو مونږ دی (په اسلام يا علم سره) او وګرځوو (ورکړو) مونږ ده ته نور (رڼا) چې تګ کوي دی په دې سره په خلقو کې؛ په شان د هغه چا دی چې حال د هغه (داسې وي چې واقع وي) په تيارو کې حال دا چې نه وي وتونکی له هغه (تورتم؟ بلکه نه دی، دارنګه حال د مؤمن او کافر دی)، همداسې (لکه چې ښايسته کړی شوی دی مؤمنانو ته ايمان) ښايسته کړی شوی دی کافرانو ته هغه شی چې دي دوی چې کوي (يې له کفر او معاصيو څخه).

تفسير: ځينې مفسرين وايي چې دغه آيت د حمزه رضي الله تعالی عنه يا عمر رضي الله تعالی عنه يا د عمّار رضي الله تعالی عنه او ابو جهل په حق کې نازل شوی دی.

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكٰبِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا فِيهَا ۚ وَمَا يَمْكُرُونَ إِلَّا بِأَنفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿١٢٣﴾

او (لكه چې مو ګرځولي دي فاسقان د مکې مشران) هم داسې ګرځولي دي مونږ په هره قريه (ښار) کې مشران فاسقان د هغې قريې، لپاره د دې چې مکرونه (او حيلې) وکړي دوی په هغو کليو (ښارونو) کې، او نه کوي مکرونه (او حيلې) دوی مګر خو له ځانونو خپلو سره حال دا چې نه پوهيږي دوی (چې ضرر يې دوی ته دی).

تفسير: يعنې داسې حيلې او پلمې (بهانې) يواځې د مکې معظمې رئيسانو له خپل ځانه نه دي جوړې کړي، بلکه د نورو کفارو مشرانو به تل همداسې پلمې (بهانې) او حيلې کولې، تر څو عوام الناس د رسولانو تابعدار نشي، ليکن د دوی دا پلمې (منصوبې) او حيلې بحمد الله پر پخو (خالصو) ايمانداراتو له سره اثر نه کوي، او پلمې (منصوبې) او حيلې کوونکي خپل پای (انجام) او عاقبت پخپله خرابوي.

وَإِذَا جَاءَتْهُمْ آيَةٌ قَالُوا لَن نُّؤْمِنَ حَتّٰى نُؤْتٰى مِثْلَ مَا أُوتِيَ رُسُلُ اللَّهِ ۘ اللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ ۗ سَيُصِيبُ الَّذِينَ أَجْرَمُوا صَغَارٌ عِندَ اللَّهِ وَعَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا كَانُوا يَمْكُرُونَ ﴿١٢٤﴾

او کله چې به راغی دوی ته کوم آيت (وحي) نو ويل به دوی: له سره مونږ ايمان نه راوړو په (دغې وحي) تر هغه پورې چې راکړی شي مونږ ته په شان د هغو آيتونو چې ورکړی شوي وو (نورو) رسولانو د الله ته، الله ښه عالم (ښه پوه) دی په هغه ځای چې ږدي رسالت خپل (هلته)، ژر به ورسيږي هغو کسانو ته چې مجرمان دي (په کفر سره) ذلت (سپکوالی) په نزد د الله (په آخرت کې) او عذاب سخت په سبب د هغه چې وو دوی چې مکرونه به يې کول (له مؤمنانو سره).

تفسير: د دوی د مکاری، تکبّر، حيلو، او پلمو (منصوبو) لټولو يو مثال دا دی چې د انبياوو عليهم السلام د صدق کومه نمونه چې ګوري؛ نو وايي چې: مونږ په دغو دلائلو او علائمو باندې نه پوهيږو، مونږ هلته يقين کولی شو، چې په مونږ کومه پرښته راښکته شي، او د رسولانو په شان مونږ ته هم د الله تعالی پيغام راواوروي، يا دې پخپله پاک الله مونږ سره مخامخ شي:

﴿وَقَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْنَا الْمَلَائِكَةُ أَوْ نَرَىٰ رَبَّنَا ۗ لَقَدِ اسْتَكْبَرُوا فِي أَنفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيرًا﴾ (١٩ جزء د الفرقان سورت (٢١) آيت (٣) رکوع).

خير دغه خبره خو الله تعالی ته ښه معلومه ده، چې څوک د دې وړ (لايق) او اهل دي، چې د رسالت په منصب مشرّف شي، او د الله تعالی د دې عظيم الشأن امانت حامل وګرځي؟ دا نه کوم کسبي شی دی، چې په دعا او رياضت يا په دنيوي جاه او دولت سره حاصل شي، او نه هر يو پاک او پليت سړی پر داسې يو جليل القدره او مهمه ذمه و اری باندې فائز او بريالی (کامياب) کېدی شي، هو ! داسې سپين سترګي متکبران، پلمه ګران (بهانه بازان)، حيله بازان او مکاران ښايي وپوهيږي او خبردار شي چې ژر به د دې معزّز منصب د طلب ځواب دوی ته د سخت ذلّت او شديد عذاب په صورت ورکړی شي.

فَمَن يُرِدِ اللَّهُ أَن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ ۖ وَمَن يُرِدْ أَن يُضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَاءِ ۚ

پس هر هغه څوک چې اراده وفرمايي الله چې هدايت وکړي ده ته نو پراخوي سينه (زړه) د ده لپاره (د قبلولو) د اسلام، او هر هغه څوک چې اراده وفرمايي (الله) د ګمراه کولو د هغه (د

ايمان له لارې) ګرځـوي (الله) سينه (زړه) د ده تنګ، نهايت تنګ ګواکې پورته درومي دی (په زحمت او زور سره) آسمان ته.

تفسير: يعنې په زور سره آسمانونو ته ختل غواړي، ولې نشي ختلی، ځکه زړه يې تنګيږي، (يعنې د حق له قبوله داسې تښتي او لرې کيږي چې وايي آسمان ته ترې وختی، يا لکه چې د يوه سړي په مخکې يو ډېر لوړ او مشکل کار وي، چې ورته ګوري او توان يې ورته نه رسيږي، او زړه يې ورته تنګيږي، هم داسې ده ته هم اسلام سخت ښکاري).

كَذَٰلِكَ يَجْعَلُ اللَّهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٢٥﴾ وَهَٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا ۗ قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾

هم داسې (چې تنګ کړي يې دي زړونه د کفارو له قبوله د حق) نازلوي الله عذاب پر هغو کسانو چې نـه راوړي ايمان. او همدا (اسلام) لاره د رب ستا ده سمه صافه، په تحقيق واضح بيان کړي دي مونږ آيتونه لپاره د (هغه) قوم چې پند ترې اخلي (پکې غور کوي).

تفسير: هغه کسان چې د ايمان راوړلو اراده نه لري، ورباندې عذاب او تباهي راځي، چې ورو ورو د دوی سينې دومره تنګيږي، چې په هغو کې د حق د ننوتلو هيڅ ځای نه پاتې کيږي، بيا نو هم دغه سينه تنګي (ضيق الصدر) داسې عذاب دی، چې د قيامت په ورځ کې په محسوس ډول ور په مخه کيږي.

شيخ الهند د «رجس» ترجمه په عذاب سره کړې ده، چې دغه تقرير د هغه په اساس شوی دی.

او «عبد الرحمن بن زيد بن أسلم» «رحمه الله» هم د «رجس» معنی په عذاب سره کړې ده.

مګر ابن عبّاس رضي الله تعالى عنهما دلته له (رجس) ځنې شيطان مرادوي، ښايي دا به له دې امله (وجې) وي، چې «رجس» پليتی ته وايي، او له شيطان څخه ډېر پليت او ناپاک بل څوک نشته.

په هر حال له دې تفسيره سره سم د آيت مطلب به داسې کيږي: هم دغسې چې پاک الله له ايمان ځنې د ويريدونکو سينه تنګوي؛ هم داسې پر هغوی باندې د بې ايمانۍ له وجې شيطان هم مسلّط کاوه شي، چې له سره د «رجوع الى الحق» توفيق دوی ته نه پاتې کيږی.

لَهُمْ دَارُ السَّلَامِ عِندَ رَبِّهِمْ وَهُوَ وَلِيُّهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢٧﴾

شته دی دغو (پند آخيستونکو) ته دار (کور) د سلامتيا (جنت) په نزد د رب د دوی، او هم دغه «الله» ولي (مددګار) د دوی دی په سبب د هغو (اعمالو) چې وو دوی چې کول به يې.

تفسير: يعنې هر هغه څوک چې د اسلام او اطاعت په سمې صافې لارې درومي؛ هم دی به د سلامتيا کور ته ورسيږي، او پاک الله به د ده ولي، دوست او مددګار شـي، دا خو د هغو کسانو حال شو چې د دوی ولي او دوست الله تعالى دی، يعنې «أولياء الرحمن» دي، وروسته له دې د «أولياء الشيطان» بيان کولی شي.

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ۚ يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ قَدِ اسْتَكْثَرْتُم مِّنَ الْإِنسِ ۖ

او (ياد کړه) هغه ورځ چې جمع به کړي (الله) دوی ټول، (او وبه ويل شي) ای جماعته د جنياتو (د پيريانو) ! په تحقيق چې ډېر مو تابع کړي دي تاسې له انسانانو.

تفسير: يعنې ای شياطين الجن ! تاسو ډېر بدبخت انسانان خپل لوري ته متوجه کړي دي، او په خپله لاره مو هغوی روان کړي دي.

وَقَالَ أَوْلِيَآؤُهُم مِّنَ ٱلْإِنسِ رَبَّنَا ٱسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَبَلَغْنَآ أَجَلَنَا ٱلَّذِىٓ أَجَّلْتَ لَنَا ۖ

او وبه وايي دوستان د دوی له انسانانو ځني: ای ربه ځمونږ ! نفع اخيستې ده ځينو ځمونږ په ځينو (نورو)، او رسيدلي يو مونږ نېټې خپلې ته هغه نېټه چې مقرره کړې وه تا مونږ ته (چې قيامت دی او مونږ ترې منکران وو، نو اوس به ځمونږ څه حال وي؟).

تفسير: په دنيا کې هغه انسانان چې د بتانو او نورو عبادت کوي، دوی في الحقيقت د خبيثو پيريانو (شياطينو) عبادت کوي، او دغو به په دې ګمان د شياطينو عبادت کولو، چې دوی به ځمونږ په کار او ښه راشي، نو ځکه به يې د دوی په نامه نذرونه، نيازونه او خيراتونه ورکول، برسېره په دې د اهل جاهليت ډېرو کسانو د تشويش او اضطرابونو په وخت کې له پيريانو ځني هم استعانت غوښت، لکه چې د «الجن» په سورت کې ورته اشاره شوې ده.

او ابن کثير «رحمه الله» او نورو داسې روايتونه هم نقل کړي دي، چې کله د آخرت په ورځ کې دغه شياطين الجن أو شياطين الانس يو ځای سره ونيولی شي، او د ګردو (ټولو) حقائقو انکشاف وشي، نو هلته به مشرکان داسې عذر کوي، چې ای ځمونږ ربه ! مونږ د دوی عبادت نه دی کړی، خو پخپلو منځونو کې مو سمدلاسه موقتي کارونه کول، او د مرګ د وعدې له راتللو څخه لا پخوا مونږ په دنيوي کارونو او خپلو چارو کې د پر مخ بيولو لپاره يو د بل کارونه چلول، او ځينې ترتيبونه مو سنجول (سمول)، د دوی عبادت او منل مو له سره مقصود نه وو.

قَالَ ٱلنَّارُ مَثْوَىٰكُمْ خَٰلِدِينَ فِيهَآ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۗ

او وبه فرمايي (دوی ته الله) چې: اور ځای ستاسې دی حال دا چې همېشه به اوسئ تاسې په دغه اور کې مګر (کله) چې اراده وفرمايي الله (د ايستلو د دوی زمهرير يا حميم يا بل کوم عذاب ته، يا اراده وفرمايي الله تعالى د ايستلو د ګناهګارو مؤمنانو له اور څخه جنت ته)،

تفسير: دا يې «کله چې اراده وفرمايي الله» د دې لپاره وفرمايه چې د دوزخ عذاب چې دائم دی، خو د هم ده په اراده سره دی، هر کله چې اراده وفرمايي د هغه پر موقوفولو هم قادر دی، ليکن پر هغه شي يې چې اراده کړېده، او د هغې خبر يې د رسولانو په ژبه ورکړی دی، هغه له سره تبديل کېدونکی نه دی. عموماً مفسرينو د دې آيت ترجمه داسې کړېده: «وبه فرمايي دوی ته الله چې اور ځای ستاسې دی چې همېشه به اوسئ تاسې په دغه اور کې مګر کله چې اراده وفرمايي الله د ايستلو د دوی زمهرير، يا حميم يا بل کوم عذاب ته، نو په دغه وخت کې به په اور کې نه وي»، چې همدغه ترجمه غوره ده.

إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٢٨﴾

بېشکه رب ستا ښه حکمت والا ښه عالم (ډېر خبردار) دی.

تفسير: يعنې د مجرمانو له جرائمو ځني په ښه ډول سره خبردار دی، او له خپل بالغه حکمت سره سم د هر جرم په ځای او تناسب سره سزا ورکوي.

وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّى بَعْضَ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعْضًۢا بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿١٢٩﴾

او همداسې (چې په دنيا کې انسي او جنّي کفار مو يو په بل باندې مسلّط کړي دي؛ په عقبا کې) مسلّطوو مونږ ځينې ظالمان په ځينو (نورو) په سبب د هغو اعمالو چې وو دوی چې کول به يې.

تفسير: لکه چې تاسې د «شياطين الجن» او د دوی د انسي أولياوو حال واورېده، هم داسې مونږ ګرد ظالمان او ګناهګاران د دوی دظلمونو او بدو کارونو په تناسب به په دوزخ کې يو له بله سره نژدې کوو، او د هرې درجې ظالم او ګناهګار چې وي؛ دی به د نافرمانانو په همغه طبقه کې اچوو، بيا به وويل شي دوی ته داسې چې:

يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ؕ

ای جماعته د جنياتو (پيريانو !) او انسانانو ! آيا نه وو راغلي (بلکه راغلي وو) تاسې ته رسولان له همدا تاسې نه چې بيانول به دوی پر تاسې آيتونه (احکام) ځما او ويرولئ به يې تاسې له ملاقات د ورځې ستاسې څخه چې دا ده.

تفسير: دا تحقيق چې په هره نوعه کې ېېل ېېل رسول راشي، يا هر يو رسول د جن او انس ګردو افرادو لپاره مبعوث شوی دی، نو دا آيت له دې بيانه ساکت دی، د نورو نصوصو له مخې ګردو عالمانو دا ثابته کړې ده؛ چې نه د هر يوه رسول بعثت عمومي دی، او نه الله تعالی کوم يو جنّ د مستقل رسُول په حيث لېږلی دی، د معاش او معاد په اکثرو معاملو کې دوی حق تعالی د انسانانو تابع ګرځولي دي، لکه چې د «جن» د سورت آيتونه او احاديث او نور پرې دلالت کوي.

دا کومه ضابطه نه ده چې د مخلوق د هرې نوعې لپاره د همغې نوعې کوم سړی رسول ولېږل شي، باقي د انسانانو په لوري د پرښتو لېږل د رسالت په ډول (طريقه) د دې په نسبت هغه انکار چې د پاک قرآن په متعددو مواضعو کې شوی دی؛ د هغو اصلي منشأ همدا ده، چې عام انسان د پرښتو د ليدلو تحمل په خپل اصلي هيئت سره نشي کولی، او د بې اندازې خوف او هيبت له وجې نشي ترې مستفيد کېدی، او که د انسان په صورت راشي، نو بلا ضرورت التباس واقع کيږي، په همدې قياس سره که د پيريانو په قوم کې د نبوت منصب اهليت وای؛ نو دوی به دانسانانو لپاره له سره نه مبعوث کېدل، ځکه چې هلته به هم دغه اشکال وو.

قَالُوْا شَهِدْنَا عَلٰٓى اَنْفُسِنَا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿۱۳۰﴾

نو وايي به چې شاهدي وايو پر (ګناهونو د) ځانونو خپلو (او په راتګ او تبليغ د رسولانو، نو وبه فرمايي الله چې) او غره کړي (او غولولي) دوی ژوندون لږ خسيس (دنيوي ژوندون)، او شاهدي ورکړه دوی پر ځانونو خپلو باندې چې بېشکه دوی وو کافران (په دنيا کې).

تفسير: په دې سورت کې پورته ذکر شو چې اول به کافران له خپله کفره انکار کوي، بيا به الله تعالی پخپل تدبير دوی قائلوي.

ذٰلِكَ اَنْ لَّمْ يَكُنْ رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ وَّاَهْلُهَا غٰفِلُوْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۲﴾

دغه (ارسال د رُسل) لپاره د دې دی چې نه دی رب ستا هلاک کوونکی (د اهل د ښارونو او د) کليو په ظلم سره، حال دا چې اهل د دې (کليو او ښارونو) غافلان (بې خبران) وي، او هر چاته درجې دي (په ثواب او عقاب کې) له (جزاء د) هغو اعمالو چې کړی وي دوی، او نه دی رب ستا غافل (بې خبره) له هغو شيانو چې دوی (يې) کوي.

تفسير: يعني د الله تعالى دا عادت نه دى چې بې له خبرولو او پوهولو څوک د ظلم او عصيان په ګناه باندې په دنيا يا آخرت کې ونيسي، او هلاک يې کړي، نو ځکه پيغمبران او ويروونکي يې ولېږل، چې په ښکاره ډول ټولو جنياتو او انسانانو ته د دوی ښه او بد، ابتداء او انتهاء ورڅرګند او ګرد پرې خبردار کړي، بيا چې د چا عمل په کومه درجه او اندازه وي؛ الله تعالى به له هغه سره همغسې معامله وکړي.

وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ ۚ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ مِن بَعْدِكُم مَّا يَشَاءُ كَمَا أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ آخَرِينَ ﴿١٣٣﴾ إِنَّ مَا تُوعَدُونَ لَآتٍ ۙ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿١٣٤﴾

او رب ستا غني (بې پروا) دى (له بندګانو او د دوى له عباداتو) څښتن (خاوند) د رحمت دى (د عذاب په ژر نه لېږلو)، که اراده وفرمايي نو بوځي به تاسې او خليفه (ځاى نيوونکى ستاسې) به کړي وروسته له تاسې هر هغه څوک چې اراده وفرمايي، لکه چې پيدا کړي يې يئ تاسې له اولادې د قوم نورو نه. بېشکه هغه شى چې له تاسې سره يې وعده کولى شي (چې قيامت دى) ضرور راتلونکى دى، او نه يئ تاسې عاجز کوونکي (د الله تعالى په قدرت د ده کې).

تفسير: الله تعالى خپل حجّت پر تاسې د رسول په لېږلو تمام کړ، اوس که تاسې د الله تعالى احکام نه منئ، او په سمه صافه لاره نه درومئ؛ نو الله جل جلاله غني دى، او د تاسې او د نورو هيڅ پروا نه لري، که پاک الله اراده وکړي؛ نو تاسې ګرد به يوه شېبه (دقيقه) کې له منځه يوسي، او ستاسې په ځاى به په خپل فضل او مرحمت سره بل قوم ودروي، چې د الله تعالى مطيع او وفادار وي، او دغه ستاسې بيول او د بل صالح قوم راوستل پاک الله ته هيڅ څه اشکال نه لري، دا چې نن تاسې د خپلو پلرونو او نيکونو په ځاى ناست يئ، د پاک الله کار دى چې دوى يې عقبى ته بيولي او تاسې يې په دغه دنيا کې د دوى په ځاى کښېنولي يئ، او ځاى يې درکړى دى، په هر حال د الله تعالى کار بېرته پاتې کېدونکى او ستنېدونکى (واپس کېدونکى) نه دى، که ګرد مخلوقات هم لاس سره يو کړي، او ورته متفق شي؛ بيا هم دوى د الله جل جلاله د ارادې او مشيئت مخه نشي نيولى.

قُلْ يَا قَوْمِ اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن تَكُونُ لَهُ عَاقِبَةُ الدَّارِ ۗ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ﴿١٣٥﴾

ووايه چې اى قومه ځما ! عمل کوئ تاسې پر حالت خپل سره (چې کفر او عداوت دى) بېشکه زه هم عمل کوونکى يم (پخپل حال سره چې ايمان او استقامت دى)، پس ژر به پوه شئ تاسې چې دچا لپاره بـه وي (محمود) عاقبت د دار (د آخرت، باليقين)، شان دا دى: نه مومي برى ظالمان (کافران له عذابه د نيران).

تفسير: يعني الله تعالى تاسې په خير او شر، نفع او ضرر، نېک او بد ګردو مطلع او خبر کړي يئ، که سره له هغه هم تاسې پرې ونه پوهيږئ، او پر خپلو ځانونو ظلم وکړئ، او له دې تيري او تجاوز څخه لاس وانخلئ؛ نو تاسې په دغه شرارت کې دوام وکړئ !، زه به هم خپله فريضه اداء کړم، او عنقريب به دا خبره ښکاره شي، چې د دې دنيا انجام د چا پـه لاس کـې دى؟ بې له شکه او شبهې د ظالمانو پاى (آخر) او انجام ښه نه دى.

وروسته له دې د دوى د هغو څو اعتقادي او عملي ظلمونو بيان کاوه شي، چې په دوى کې رائج وو، او له ګردو څخه خورا لوى ظلم هغه دى، چې د هغه په نسبت يې فرمايلي دي: ﴿إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾.

وَجَعَلُوا لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْأَنْعَامِ نَصِيبًا فَقَالُوا هَٰذَا لِلَّهِ بِزَعْمِهِمْ وَهَٰذَا لِشُرَكَائِنَا ۖ فَمَا كَانَ لِشُرَكَائِهِمْ فَلَا يَصِلُ إِلَى اللَّهِ ۖ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَائِهِمْ ۗ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿١٣٦﴾

او مقرر کړي دي دغو (مشرکانو) الله ته له هغه شي چې پيدا کړي دي الله تعالى (هغه) له کښته (فصله) او چارپايانو څخه يوه برخه، نو وايي دوی دا برخه لپاره د الله تعالى ده په زعم (عقيده) د دوی سره، او دا (بله برخه) لپاره د شريکانو ځمونږ ده، نو هغه برخه چې وي لپاره د شريکانو د دوی؛ پس (هغه) نه رسيږي الله ته، او هغه برخه چې وي لپاره د الله؛ نو هغه رسيږي شريکانو د دوی ته (چې بتان دي، ډېر) بد دی هغه حکم (انصاف) چې کوي يې دوی.

تفسير: شاه صاحب فرمايي چې: «کافرانو به له خپلو کښتو (فصلونو) او د چارپايانو له بچيانو ځنې د الله تعالى په نامه نذرونه او نيازونه ايستل، او د بتانو په نامه به يې هم نيازونه او نذرونه ټاکل (مقررول)، نو بيا کله چې هغه ساکښ (ذي روح) چې د الله پاک په نامه ټاکلی (مقرر) شوی وو، څه قدر به يې بهتر ليدو؛ نو هغه به يې د بتانو له ساکښو (ذي روحو) سره بدلاوه، مګر د بتانو له لوري به يې د الله تعالى په لوري نه بدلاوه، او له هغو ډېر ويرېدل».

هم داسې په کښت (فصل) او کر، غَلو او دانو، مېوو او نورو شيانو کې هم که د بتانو د نامه نذر اتفاقا د پاک الله برخې سره ګډ کېده؛ نو هغه به يې تري بېلاوه، او د بتانو په لوري به يې ورستناوه، که د الله پاک برخه به د بتانو په برخو کې ورتله؛ نو هغه به يې نه ستنوله او داسې پلمې (تدبيرونه) او بهانې به يې جوړولې چې الله تعالى خو غني دی، که د هغه له برخې څخه څه کمه شي، هيڅ پروا نه لري، په خلاف د بتانو چې هغوی داسې نه دي.

د تماشې خبره دا وه چې دوی له داسې ويناوو څخه هم نه شرمېدل چې هغه بتان چې په دې اندازه محتاج وي؛ نو بيا دوی څرنګه معبود او مستعان دواړه شي؟ د داسې شيانو عبادت او احترام د کوم پوه او عقلمن کار دی؟.

په هر حال په دې آيت کې په ﴿سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ﴾ سره د مشرکينو د دې تقسيم تردید وکړ شو، يعنې د الله تعالى په پيدا کړی شوو کښتونو (فصلونو) او مواشيو او نورو کې اول د غير الله د برخې ټاکل (مقررول) او بيا د خرابو ناقصو شيانو نسبت پاک الله ته کول څومره ظلم؟ او بې انصافي ده؟ !.

وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَادِهِمْ شُرَكَاؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ ۖ

او (لکه چې مزيّن کړی شوی دی دوی ته دا د اموالو قسمت) هم داسې ښايسته کړی دی ډېرو مشرکانو ته وژل د اولاد خپل شريکانو د دوی (چې شيطانان دي) لپاره د دې چې هلاک کړي دوی او (بل) لپاره د دې چې ګډوډ کړي (دا شيطانان) پر دوی باندې (ابراهيمي) دين د دوی.

تفسير: («شُرَكَاءُ» مرفوع او د «زَيَّنَ» فاعل دی): دلته د (شرکاء) **تفسير مجاهد** «رحمه الله» په «شياطين» سره کړی دی، د مشرکانو د انتهايي جهالت، ظلم او تيري يوه نمونه دا وه چې ځينو د دوی به خپلې نجونې (جينکی) د ځوم له شرمه، او د خسر ګرځېدلو له عيبه او ځينو خپل نور حقيقي اولادونه د دې اندېښنې له سببه چې له کومه او څه به وخوري؛ وژل، او کله به يې په خپلو ځانونو باندې داسې نذرونه منل، که دومره اولاد ځما کره وشي، يا مې فلانی مراد پوره شي، نو خپل يو ولد به د فلاني بت په نامه ذبح کړم، او دغه ظلم او تېری او بې رحمي به يې لوی عبادت او قربت ګڼه، لکه چې شياطينو هم دغه بد رسم دوی ته د الهي خليل د سنّت پشان ښايسته ورځرګند کړی وو.

وَلَوْ شَآءَ اللَّهُ مَا فَعَلُوهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١٣٧﴾

او که اراده فرمايلي وی الله (په نه کولو د دې کار)؛ نو نه به وو کړی دوی دا کار، نو پر پرده دوی او هغه چې دروغ وايي دوی (پر الله باندې).

تنبيه: همداسې يو آيت په (٨ جزء د «الأنعام» د سورت په ١١٢ آيت (١۴) رکوع) او په نورو ځايونو کې هم په همدې مضمون نور آيتونه شته، هر هغه شی چې د دغو متحد المضامينو آيتونو په تفاسيرو کې هلته ليکل شوی دی، هغه دې دلته بيا وکتل شي !.

وَقَالُوا هَٰذِهِ أَنْعَامٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ لَّا يَطْعَمُهَا إِلَّا مَن نَّشَاءُ بِزَعْمِهِمْ وَأَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُورُهَا وَأَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُونَ اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا افْتِرَاءً عَلَيْهِ ۚ سَيَجْزِيهِم بِمَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿١٣٨﴾

او وايي دوی چې (دغه برخه د بتانو که) چارپايان دي او (که) کښت (فصل) ممنوع (حرام) دی؛ چې نه به خوري له دې مګر هغه څوک چې ځمونږ خوښ وي په ګمان د دوی سره سم، او (ځينې) چارپايان دي چې نه يادوي دغه (مشرکان په وخت د ذبح کې) نوم د الله پر دوی بلکه (نوم د بتانو پرې يادوي او نسبت کوي د دغو احکامو الله ته) په طريقه د دروغ ترلو په الله، ژر به سزا ورکړي دوی ته (الله)، په سبب د دې چې وو دوی دروغ به يې ترل (پر الله).

تفسير: مثلا چې نارينه يې وخوري او ښځې يې ونه خوري، يا دې نذرانې يواځې همغه کسان وخوري؛ چې د بتخانو مجاوران وي، دا قيود يې يواځې په خپلو خيالونو سره د ځينو چارپايانو او کښتونو (فصلونو) په متعلق وضع کړي وو، چې د بتانو په نامه به يې وقفول، همداسې يې سورلی او بار وړل هم د ځينو ساکښانو (چارپايانو) په شا حرام ګڼل، د ځينو مواشيو په نسبت يې داسې فيصله کړې وه، چې د ذبحې يا د سورلی يا لوشلو په وخت کې پر هغوی د الله تعالی نوم وانخيستل شي، او هيڅېرې د بتانو په شيونو کې الله تعالی شريک نشي.

برسېره په دې؛ لوی غضب دا وو چې د هسې خرافاتو او جهالتونو نسبت يې د الله تعالی په لوري کاوه، ګواکې (معاذ الله) همده داسې احکام صادر فرمايلي دي، او په هم دغو طريقو سره د ده خوښي او خوشالي حاصلېدی شي، له داسې بدو عناوينو سره يې داسې بهتان او افتراء هم کوله، ژر به دوی د داسې ګستاخۍ او سپين سترګی له سزاوو سره مخامخ شي.

وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ الْأَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِّذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰ أَزْوَاجِنَا ۖ وَإِن يَكُن مَّيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَاءُ ۚ سَيَجْزِيهِمْ وَصْفَهُمْ ۚ إِنَّهُ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٣٩﴾

او وايي دوی چې هغه شی چې په ګېډو د دې چارپايانو کې دی؛ خالص دی لپاره د نارينه وو ځمونږ، او حرام کړی شوی دی پر ښځو ځمونږ، او که وي هغه؛ مرداره نو دوی (نر او ښځه) په کې شريکان دي، ژر به سزا ورکړي (الله) دوی ته د (دې) تقرير د دوی، بېشکه دغه (الله) ښه حکمت والا دی (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي) ښه علم والا (په هر شي دانا).

تفسير: يوه داسې مسئله يې هم له ځانه جوړه کړې وه، که بحيره او سائبه يې ذبح کړه، او د هغو له ګېډو ځنې کوم ژوندی بچی ووت، نو د هغه له غوښې څخه دې نارينه وخوري ! او ښځې دې نه خوري، او که مړ ووت؛ ټول يې ترې خوړی شي، د داسې بې سنده مسئلې د جوړوونکو له حاله پاک الله بې خبره نه دی، هو ! دی به له خپل حکمت سره

سم په مناسب وخت کې هغو ته مناسبه سزا ورکوي، (او بېشکه الله ځېښتن (خاوند) د حکمت دی، په حکم د حلالو او حرامو بلکه په هر شي کې، او ښه دانا دی په مصالحو د بندګانو خپلو په حل او په حرمت او نورو کې).

قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ قَتَلُوا أَوْلَادَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ وَحَرَّمُوا مَا رَزَقَهُمُ اللَّهُ افْتِرَاءً عَلَى اللَّهِ ۚ قَدْ ضَلُّوا وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿۱۴۰﴾

بېشکه زیان کړی دی هغو کسانو چې وژلي یې دي اولاد خپل له جهته د بې عقلی بې له پوهې، او حرام کړي یې دي هغه شیونه چې رزق (روزي) ورکړی دي دوی ته الله، له جهته د دروغ ترلو پر الله پورې، بېشکه ګمراهان شوي دي دوی، او نه دي دوی لاره موندونکي (حق ته).

وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَ جَنَّاتٍ مَعْرُوشَاتٍ وَغَيْرَ مَعْرُوشَاتٍ وَالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ مُخْتَلِفًا أُكُلُهُ وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا وَغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ۚ كُلُوا مِنْ ثَمَرِهِ إِذَا أَثْمَرَ وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ ۖ وَلَا تُسْرِفُوا ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ ﴿۱۴۱﴾

او الله هغه ذات دی چې پیدا کړي یې دي باغونه (د انګورو له ځمکې) هسک (اوچت) کړی شوي (پر لرګیو)، او غیر هسک (اوچت) کړی شوي (پراته پر ځمکه)، او د خرما ونه او کښت (فصل) چې مختلفې وي مېوې (حاصل) د هغو (په رنګ او خوند کې) او زیتون (ښونه) او انار (نرګوسی) چې متشابه وي (په ونو او پاڼو کې) او غیر متشابه وي (مېوې د هغو په مزو کې)، خورئ تاسې له مېوې د هغې ځنې کله چې مېوه ونیسي، او اداء کړئ حق د هغې په ورځ د رېبلو (شوکولو) د دې، او بې ځایه یې مه مصرفوئ تاسې، بېشکه چې الله نه خوښوي مسرفان (تېرېدونکي له حدودو).

تفسیر: هسک (اوچت) کړی شوي لکه انګور چې پر چیلو او نورو هسکیږي (اوچتیږي)، او غیر هسک (اوچت) کړی شوي (چې پخپله هسک (اوچت) وي) لکه خُرما، منه، بادام او پسته او نورې ډډ (تنه) لرونکي ونې، یا (غوړېدلې په ځمکه لکه) خټکي، هندوانې، او نور چې د هغو ځېلې (جوړنګ) بې د بل کوم شي له اتکاء د ځمکې پر مخ غځیږي او خوریږي.

﴿أُكُلُهُ﴾ «اُکُل: مېوه، دانو او نورو هغو شیانو ته وایي چې خوړل کیږي»، ﴿مُتَشَابِهًا﴾ یعنې په صورت او شکل کې یو له بل سره مشابه او ورته وي، خو په خوند او مزه کې سره بېل او جلا (جدا) وي.

﴿كُلُوا مِنْ ثَمَرِهِ﴾ «خورئ له مېوې د هغې»، یعنې هغه غلې چې الله تعالی پیدا کړي دي، د هغوی له خوړلو څخه بې له کومه سنده ځان مه ساتئ !، هو ! د دې دوه خبرو فکر او خیال تل ولرئ، چې د رېبلو او ټولولو په وخت کې هغه حق چې د الله تعالی دی؛ هغه ورکړئ، او نور فضول او بې موقع صرفول او ښندل (نوستل) مه کوئ !.

د الله تعالی له حق څخه دلته مراد څه شی دي؟ د دې په نسبت عالمان مختلفې خبرې کوي، د ابن کثیر «رحمه الله» له روایت ځنې دا څرګندیږي، چې ابتداء په مکې معظمې کې د کښتونو (فصلونو) او باغونو په حاصلاتو کې څه برخه ایستل واجب وو، چې په مساکینو او فقراوو صرفېدله، وروسته په مدینې منورې کې د هجرت په دویم کال د هغه مقدار او د نورو تعیین او تفصیل وکړ شو، یعنې د للمې ځمکې په حاصلاتو (په دې شرط چې خراجي نه وي) لسمه برخه، او د اوبو لرونکو ځمکو ځنې شلمه برخه واجب ده.

وَمِنَ الْأَنْعَامِ حَمُولَةً وَّفَرْشًا ۚ كُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۚ إِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۙ﴿١٤٢﴾

او (پيدا کړي مو دي) له چارپايانو بار وړونکي او غځېدونکي (په ځمکه)، خورئ تاسې له هغو چې رزق کړی (درکړی دی) تاسې ته الله، او مه کوئ متابعت (مه ځئ) تاسې په قدمو د شيطان، بېشکه دا (شيطان) تاسې ته دښمن دی ښکاره.

تفسير: بار وړونکی لکه اوښ او نور، او په ځمکه غځيدونکي لکه کوچنوتي (واړه) ساکښان (ذي روح) مېړي، وزې (يا د «فرش» معنی دا ده چې د وړيو او وژغنو او ويښتانو څخه يې فرشونه جوړيږي، يا لپاره د حلالولو پر ځمکه ځملول کيږي، يا «حمولة» د انعامو کبار دي، او «فرش» د دوی صغار دي، ځکه چې ځمکې ته فرش په شان نژدې دي).

د الله تعالی له دې راکړو نعمتونو ځنې منتفع کېدل، بهره اخيستل پکار دي، د شيطان پر قدمونو تګ دا دی، چې دغه شيان هرو مرو بې له شرعي حجّته حرام وګرځول شي، يا د شرک او بت پرستی وسيله يې جوړه کړي، له دې نه به بله د شيطان ښکاره دښمني څه وي، چې له دې نعمتونو ځنې يې تاسې په دنيا کې بې برخې ګرځولي يئ؟، او په آخرت کې د هغو له امله (وجې) په سخت عذاب اخته کېږئ.

ثَمٰنِيَةَ أَزْوَاجٍ ۚ مِنَ الضَّأْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ ۗ قُلْ آٰلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ الْأُنْثَيَيْنِ أَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ الْأُنْثَيَيْنِ ۖ نَبِّئُوْنِيْ بِعِلْمٍ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۙ﴿١٤٣﴾

(الله پيدا کړي دي حلال) اته جوړې (نر او ښځه)، له مېړو (ګډو) ځنې دوه (نر او ښځه) (يعنې په هره نوعه کې يوه ښځه او بل نر، په دې ډول دوه دوه جوړه شول، چې ګرد سره اته کيږي)، او له وزو (بيزو) څخه دوه (نر او ښځه)، ووايه (ای محمده ! دوی ته): چې آيا (الله) دواړه نران حرام کړي دي (د مېړو «ګډو» او وزو «بيزو» څخه) که دواړه ښځې (له دوی څخه)؟ يا (که حرام کړي يې دي) هغه بچي چې مشتمل وي په هغو باندې رحمونه د دغو دواړو ښځو؟ راوښيئ تاسې ماته سند (چې علم دی)، که يئ تاسې صادقان (رښتيني په نسبت د تحريم د دې شيونو کې الله ته) !.

تفسير: يعنې د کوم يوه شي حلال او حرام ګڼل يواځې د الله تعالی په حکم سره کېدی شي، بيا په دوی کې نر يا ښځه يا د هغه بچي چې د مور په ګېډه کې دی که تاسې دګردو انسانانو يا د ځينو په حق کې حرام وګرځوئ لکه چې په پخوانيو آيتونو کې تېر شو، آيا له تاسې سره د دې خبرې کوم سند شته؟

کله چې له تاسې سره د الله تعالی کوم حکم او سند نشته، نو بيا تش په آراوو او نفسي تمايلاتو سره د الله تعالی په پيدا کړو شيانو کې له خپله ځانه حلال او حرام ټاکل (مقررول) له دې خبرې سره مرادف دي؛ چې د الوهيت مقام د خپل ځان لپاره تعيين کړئ، يا په الله تعالی باندې عمداً او په قصد سره بهتان يا افتراء ووايئ، دا دواړه صورتونه ډېر مهلک او تباه کوونکي دي.

وَمِنَ الْإِبِلِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْبَقَرِ اثْنَيْنِ ۗ قُلْ آٰلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ الْأُنْثَيَيْنِ أَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ الْأُنْثَيَيْنِ ۖ أَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ إِذْ وَصّٰكُمُ اللّٰهُ بِهٰذَا ۚ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا لِّيُضِلَّ النَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٤٤﴾

او (الله پيدا کړي دي) له اوښانو دوه (نر او ښځه) او له غوايانو دوه (نر او ښځه)، ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې آيا دواړه نران حرام کړي دي الله که دواړه ښځې يا هغه (بچي يې حرام

کړي دي) چې مشتمل دي پرې رحمونه د دغو دواړو ښځو، آيا وئ تاسې حاضران (ليدونکي) کله چې وصيت (حکم) کاوه تاسې ته الله په دې شيانو، نو څوک دی ډېر ظالم (يعنې نشته لوی ظالم) له هغه چا چې تړي پر الله باندې دروغ لپاره د دې چې ګمراه کړي خلق بې له علمه (بې تحقيقه)، بېشکه الله نه کوي هدايت قوم ظالمانو ته (چې د جاهليت په دين ولاړ وي).

تفسير: د اشياوو تحليل او تحريم يواځې د الله تعالى په حکم سره کېدی شي، او د الله تعالى حکم د انبياوو عليهم السلام په وسيله رارسيږي، يا حق تعالى بلا واسطه څوک مخاطب وګرځوي، نو له دې نه معلومه شوه، چې دلته دواړه صورتونه منفي دي، د پخواني شِقّ انتفاء ته يې په ﴿بِعِلْمٍ﴾ الآيه ـ سره او د دويم شِقّ نفي ته يې په ﴿أَمْ كُنتُمْ شُهَدَاءَ إِذْ وَصَّاكُمُ﴾ الآيه ـ سره تنبيه وفرمايله، نو د مشرکانو په دغو دعواوو کې د افتراء او اضلال څخه ما سوا بل هيڅ شی پاتې نشو.

قُل لَّا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلَّا أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤٥﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې نه مومم زه په هغه شي کې چې وحي کړی شوې ده ماته (تر اوسه پورې) (يو شی) حرام کړی شوی پر کوم خوړونکي چې خوري هغه، مګر که وي دا شی مرداره يا وينه بهېدونکې يا غوښه د خنزير؛ نو بېشکه دغه خنزير پليت دی، يا ناجائزه ذبيحه وي چې غږ کړی شوی وي بې د نامه د الله په (وخت د ذبح د) هغې کې، بيا که څوک (له لورې) بې اختياره شي، په دغه حال چې نه وي ظالم (پر بل کوم مضطر باندې)، او نه تېرېدونکی (په خوراک کې د ضرورت له قدره)؛ نو بېشکه رب ستا لوی بخښونکی (د خطيّاتو) نهايت مهربان دی.

تفسير: شاه صاحب فرمايي: «يعنې له هغو ساکښانو (ذي روحو) څخه چې د غوښو خوراک يې رواج درلود (لرلو)، هم دا حرام دي»، په دې آيت کې کفارو ته دا خبره ښوولې کيږي، دغه شيان چې پاس ذکر شول ګرد حلال وو، خو تاسې هغه په خپل سر حرام وګرځول، اوس هغه شيان درښوول کيږي؛ چې حقيقتاً حرام دي، او تاسې هغه حلال ګڼئ.

باقي د آيت مضمون تفسير او توضيح په (٢ جزء د البقره سورت په (١٧٣) آيت (٢١) رکوع، او په (٦) جزء د «المائدې» د سورت په (٣) آيت (١) رکوع د ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنزِيرِ﴾ الآيه ـ په تفاسيرو کې ليکلی شوی دی، هلته دې وکتل شي.

وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ ۖ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَا إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَا أَوِ الْحَوَايَا أَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ۚ ذَٰلِكَ جَزَيْنَاهُم بِبَغْيِهِمْ ۖ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ ﴿١٤٦﴾

او پر هغو کسانو باندې چې يهودان دي؛ حرام کړی وو مونږ هر نوکداره، او له غوايانو او له مېږو (ګډو) حرام کړی وو مونږ پر دوی باندې وازدې د دې دواړو، مګر هغه وازده چې بار کړې وه (لګېدلې وه په) شاګانو د دوی دواړو يا کلمو باندې به وه، يا هغه وازده چې لګېدلې به وه له هډوکي سره، دا (تحريم د دې شيونو) جزا ورکړې وه مونږ دوی ته (په هغه سره) په سبب د ظلم (شرارت) د دوی، او بېشکه مونږ خامخا رښتيا ويونکي يو (په دې ويلو خپلو کې).

تفسير: يعني اصلي حُرمت خو په هم دغو شيانو کې شته چې پاس ذکر شول، هو ! د موقّتي مصالحو له امله (وجې) ځينې شيان په عارضي ډول سره پر ځينو اقوامو پخوا له دې نه حرام کړی شوي وو، مثلا پر يهودانو باندې د دوی د شرارتونو د سزا له امله هر نوک لرونکی حيوان چې نوکان يې له منځه نه وي جلا (جدا) شوي، لکه اوښ، شتر مرغ، مرغاوی او نور حرام کړی شوي وو، او هم د غوايي او وزې (بيزې) هغه وازده چې پر شا يا کلمو يې لګېدلې نه وي، يا له هډوکي سره متصله نه وي؛ پر دوی باندې حرامه کړی شوې وه، لکه د پښتورګي وازده.

د بني اسرائيلو دغه دعوی غلطه ده؛ چې دغه شيان د نوح او ابراهيم عليهما السلام له زمانې راهيسي په مستمر ډول سره پرله پسې حرام پاتې دي، رښتيا خبره دا ده چې له دغو شيانو ځنې هيڅ يو شی د ابراهيم عليه السلام په عهد کې نه وو حرام، او د يهودانو د نافرمانۍ او شرارتونو له امله دا ګرد شيان حرام شول، نو هر هغه څوک چې د دې په خلاف دعوی کوي؛ دروغ وايي، لکه چې د (۴ جزء په شروع د آل عمران سورت په (۹۳) آيت (۱۰) رکوع په: ﴿قُلْ فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوهَا إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ﴾ دغو دعوی کوونکو ته دعوت ورکړی شوی دی، چې د دې خبرې اثبات را څرګند کړي !.

فَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقُلْ رَبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَاسِعَةٍ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُهُ عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ ﴿١٤٧﴾

نو که نسبت د دروغو وکړ دوی تاته (په دغې وحيې کې) نو ووايه (ای محمده !دوی ته) چې رب ستاسې څښتن (مالک) د رحمت واسع (ډېر پراخ) دی (چې تلوار نه کوي په تعذيب ستاسې)، او نه ګرځول کيږی عذاب د الله له قومه ګناهګارانو (کافرانو نو مه مغرور ېږئ په دې امهال).

تفسير: تاسې ته تر اوسه پورې د الهي رحمت د پراخې له کبله (وجې) نجات موندلی دی، نو داسې مه ګڼئ چې عذاب له تاسې ځنې لرې شوی دی.

سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا أَشْرَكْنَا وَلَا آبَاؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ شَيْءٍ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ حَتَّىٰ ذَاقُوا بَأْسَنَا قُلْ هَلْ عِنْدَكُمْ مِنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوهُ لَنَا إِنْ تَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ أَنْتُمْ إِلَّا تَخْرُصُونَ ﴿١٤٨﴾ قُلْ فَلِلَّهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ فَلَوْ شَاءَ لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٤٩﴾

ژر به ووايي هغه کسان چې شرک يې کړی دی: که اراده فرمايلي وی الله (په طريقه د رضا سره د دوی د شرک په عدم) نو شرک به نه وو غوره کړی مونږ او نه پلرونو ځمونږ او نه به حرام کړي وو مونږ هيڅ شی، لکه همدغه (مکذّبان) نسبت د دروغو کړی وو هغو کسانو چې پخوا له دوی ځنې وو تر هغه پورې چې وڅاکه دوی عذاب ځمونږ، ووايه (ای محمده ! دوی ته): آيا شته تاسې سره څه علمي سند چې راوباسئ تاسې هغه مونږ ته، پيروي نه کوئ تاسې (د هيڅ شي) ! مګر د تش ګمان (اټکل خپل، نه له علمه)، او نه يئ تاسې مګر خو دروغ وايئ (په الله). ووايه (ای محمده ! دوی ته: که نه وي تاسې سره څه دليل) نو الله لره دی دليل کامل (لپاره د الزام ستاسې) نو که اراده فرمايلي وی (الله د هدايت ستاسې نو) خامخا هدايت به يې فرمايلی وو تاسې ټولو ته.

تفسير: يعنې که الله اراده کړې وی، نو هغه پاک ذات قدرت درلود (لرلو) چې مونږ او ځمونږ اسلاف يې نه يواځې له دغه تحريم بلکه له نورو مشرکانه افعالو او اقوالو ځنې هم ژغورلي (ساتلي) وی، کله چې يې نه يو ژغورلي، او مونږ همغسې پرې پاتې او دوام لرو، نو ثابته شوه چې د هغه په دربار کې ځمونږ دا ګردې چارې مقبولې او ښايسته دي،

او که ځمونږ دغه کارونه (چې له قدیمه راهیسې یې کوو) د ده په نزد خراب او نا مناسب وی؛ نو مونږ یې ولې داسې خوښې او آزاد او په خپل سر یې پریښي یو؟.

دغه خبره د پوهېدلو وړ (قابل) ده چې «أحكم الحاكمين» جل جلاله د دنیا د پیدایښت له اوله تر نن پورې د خپلو صادقو او پاکو رسولانو علیهم السلام په واسطه له هر قسم قوانینو او احکامو ځنې خپلو بندګانو ته اطلاع ورکوي، او په ښکاره او صاف ډول دوی ته دا ورښیي، چې کوم اعمال د ده په دربار کې غوره او کوم یې ناغوره دي؟.

کله پرله پسې او کله له لږو وقفو څخه وروسته د دغو احکامو او هدایاتو یادونه او تذکر هم کېږي، په دې منځ کې تر هغې اندازې پورې چې له مخالفت کوونکو سره مسامحت وړ (لایق) وو؛ ورسره مسامحت وشو، کله چې د معمولي تنبیهاتو ضرورت پېښ شوی دی، نو ګړۍ په ګړۍ هغه هم ورکړی شوي دي.

او هغو کسانو ته یې لږ څه مهلت او ډیل هم ورکړی دی؛ چې د دوی د شقاوت او بدبختۍ جامونه تر څنډو (غاړو) ډک شوي وو، او په صاف او ښکاره ډول سره د خپل الله جل جلاله د انتهایي سزا مستحق ګرځیدلي او په خپله سزا او هیداد باندې د رسېدلو وړ (مستحق) او لایق ګڼلی شوي وو، لکه چې ډېرو قومونو د خپلو جرائمو د لږ څه هیداد او سزا خوند په هم دې دنیا کې څکلی دی.

نو بیا د دغسې حالاتو له موجودیت سره د څو ورځو له مخې د کوم قوم په کومو جرائمو کې د سزا له نه مبتلا کېدلو او سمدلاسه د دوی په عذاب له نه اخته کېدلو څخه څرنګه دغسې استدلال کېدی شي؛ چې ګواکې (معاذ الله) هغه جرائم د الله تعالی په نزد غوره دي، که نه الله تعالی به د یوې ګړۍ له مخې هم ورته مهلت نه ورکاوه.

بېشکه که د الله تعالی اراده وی؛ نو د انسان خلقت به یې داسې کاوه چې ګرد به سره د نوې لارې پر تللو مجبور وو، لیکن کله چې داسې نه ده واقع شوې، نو هم دغه بالغه حجّت او پوره الزام پر هغو کسانو دی چې ﴿لَوْ شَآءَ اللَّهُ مَآ أَشْرَكْنَا﴾ الآیه ـ په ویلو سره په الهي مشیئت او رضا کې د تلازم اثبات کوي.

د مشرکانو دغه استدلال ﴿لَوْ شَآءَ اللَّهُ مَآ أَشْرَكْنَا﴾ الآیه ـ خوښې لغو او چټې (بېکاره) او فضول دی، او هیڅ یو داسې برهان او علمي اصول له هغوی سره نشته چې هغه د عاقلانو په مخ کې وړاندې کړی شي، او یواځې اټکلي غشي او تخمیني خبرې دي، چې د الله تعالی بالغه حجّت پرې تردیدوي، چې د هغه په لوري په ﴿فَلَوْ شَآءَ لَهَدَىٰكُمْ أَجْمَعِينَ﴾ کې اشاره فرمایلې ده، یعنې انساني فطرت داسې نه دی پیدا کړی شوی؛ چې ګرد سره سم د هدایت په لاره برابر شي، دوی ته پاک الله د کسب او اختیار هغه آزادي ور په برخه فرمایلې ده، چې د هغې اعطاء بل هیڅ یوه مخلوق ته ممکنه نه وه، نو ځکه لازم دي چې د دې آزادۍ د استعمال په وخت کې لارې مختلفې وي، څوک په نېکۍ پسې منډې وهي، او څوک د بدۍ په لوري وځغلي.

قُلْ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ يَشْهَدُونَ أَنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَ هَٰذَا ۖ فَإِن شَهِدُوا۟ فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ وَهُم بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ ﴿١٥٠﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) راولۍ شاهدان خپل هغه چې شاهدي ورکوي دوی (په دې) چې بېشکه الله حرام کړي دي دا شیونه، نو که شاهدي ورکړه دوی؛ نو ته شاهدي مه وایه له دوی سره (مه یې قبلوه، اعتبار پرې مه کوه !)، او مه کـوه متابعت د آرزوګانو (خواهشونو) د هغو کسانو چې نسبت د دروغو کوي آیتونو (احکامو) ځمونږ ته، او د هغو کسانو چې نه راوړي ایمان په آخرت باندې، حال دا چې دوی له ربه خپله سره برابروي (نور شیان په عبادت کې).

قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ مِنْ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ

ووايه (اى محمده ! دوى ته) چې راشئ ! چې زه لولم (در اوروم) هغه چې حرام كړي دي رب ستاسې پر تاسې باندې، چې شريكان مه نيسئ تاسې له دغه (الله) سره هيڅ شى، او (نيكي كوئ تاسې) له مور او پلار سره په نېكۍ كولو سره، او مه وژنئ تاسې اولاد خپل له (وېرې د فقر او) خوارۍ نه، مونږ رزق (روزي) دركوو تاسې ته او هم دوى ته.

تفسير: عربيانو به د مفلسۍ لامله (وجې) ځينې وختونه خپل اولادونه وژل، او ويل به يې چې: مونږ پخپله خواړه نه مومو؛ نو خپلو اولادونو ته له كومه خوراك ور برابر كړو، او وربانديې ويې خورو؟، نو ځكه فرمايي: رزق وركوونكى خو پاك الله دى، چې تاسې او هم ستاسې اولادې او هم نورو مخلوقاتو ته يې وركوي.

په بل ځاى كې د ﴿إِمْلَاقٍ﴾ پر ځاى ﴿خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ﴾ فرمايلي دي، يعنې د مفلسۍ له وېرې به يې هغوى وژل، دا به د هغو كسانو ذكر وي؛ چې اوس مفلسان نه دي، مګر ويريږي كله چې مو آل او عيال زيات شي، نو دوى ته به مونږ خوراك له كومه پيدا كوو؟.

ځرنګه چې پخوانۍ طبقې ته پخوا له عياله د خپل ځان د ډوډۍ فكر او سخته اندېښنه پيدا شوې وه، او دويمه طبقه د عيال ډېروالي پرېشانه كړې وه، ښايي له همدې كبله (وجې) يې دلته له ﴿مِّنْ إِمْلَاقٍ﴾ سره ﴿نَّرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ﴾ او په هغه آيت كې يې له ﴿خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ﴾ سره ﴿نَّرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ﴾ ارشاد فرمايلى وي، والله أعلم.

تنبيه: په قرآنكريم كې درې ځايه په توحيد پسې د والدينو احسان متصل راغلى دى، له دې جهته لكه چې پروردګار حقيقتاً د مولود خالق او موجد دى، هم داسې مجازاً مور او پلار هم د ولد حامي، مربي او روزونكي دي، نو ځكه د خالق جل وعلا شأنُه د توحيد او عبادت څخه وروسته په مخلوقاتو كې له ګردو نه پخوا او زيات د مور او پلار حقوق او خدمت دى.

وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ

او مه نژدې كېږئ، فواحشو (بې حيايۍ، ناكارو كارونو) ته هغه چې ښكاره وي له دې (فواحشو) او هغه چې پټ وي.

تفسير: له «مه نژدې كېږئ» څخه ښايي دا مراد وي، چې د داسې كارونو له مبادیو او وسائلو ځنې هم ځان ژغورل (بچ كول) په كار دي، مثلا همغسې چې له زنا څخه مو ځانونه ژغورئ (بچ ساتئ)؛ له بدو كتلو، بد ليدلو، بد ويلو، او بد كولو ځنې هم اجتناب او پرهېز پكار دى.

وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ

او مه وژنئ تاسې نفس هغه نفس چې حرام كړي دي الله (وژل يې) مګر (وژنئ يې) په حقه سره.

تفسير: د ﴿إِلَّا بِالْحَقِّ﴾ استثناء ضروري وه، ځكه چې د «قاتل العمد» او «زاني محصن» او «مرتد عن الاسلام» وژل په كې داخل دي، لكه چې په صحيحو احاديثو كې د هغو تصريح وارده شوې ده، او مجتهدينو ائمه وو هم پرې اجماع فرمايلې ده.

ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿١٥١﴾

دا (څلور نهي او امر) حکم کړی دی الله تعالی تاسې ته په دې سره، لپاره د دې چې عقل وچلوئ (په کې) تاسې.

تفسیر: له دې آیت څخه د دې ګردو (ټولو) شیانو حرمت ثابت شو: (۱) شرک بالله. (۲) له مور او پلار سره بد سلوکي. (۳) قتل الأولاد. (۴) د بې حیایی ګرد کارونه مثلاً زنا او نور. (۵) د بل چا په ناحقه وژل.

وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُ ۚ

او مه نژدې کېږئ تاسې مال د یتیم ته مګر (ورنژدې شئ) په هغې طریقې سره چې هغه ډېره ښه وي، تر هغه پورې چې ورسېږي دغه یتیم قوت (ځلمیتوب) خپل ته.

تفسیر: د یتیم (پلار مړي) په مال کې بېځایه تصرف حرام دی، هو ! په بهترې او مشروعې طریقې او احتیاط سره د یتیم په مال کې د ده «ولي» او «وصي» تصرّف کولی شي، هر کله چې یتیم ځلمی او قوي شو، او د خپلو کارونو د سنبالولو اهل وګرځېد؛ نو مال دې وروسپارل شي.

وَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ ۖ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۚ

او پوره کوئ تاسې پیمانه او تول په عدل (انصاف) سره، نه ورکوو مونږ تکلیف هیڅ نفس ته مګر په اندازه د توان (طاقت) د هغه.

تفسیر: یعنې د خپل طاقت سره سم د دغو احکامو په ځای راوړلو کې کوښښ وکړئ، او په هم دغو تاسې مکلف یئ، الله تعالی هیڅوا ته د ده له مقدوره زیات تکلیف نه ورکوي.

وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ۚ

او کله چې خبرې کوئ تاسې (په کوم شي کې) نو حق (رښتیا) ووایئ اګر که وي (مقول له یا مقول علیه) خاونـد د خپلوی (هم)،

تفسیر: یعنې ښایي د هیڅوا قرابت او محبت د انصاف او حق ویلو مانع ونه ګرځي.

وَبِعَهْدِ اللَّهِ أَوْفُوا ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٢﴾

او په عهد د الله وفا کوئ تاسې، دا (درې امرونه یوه نهي) حکم کړی دی (الله) تاسې ته په هغه سره لپاره د دې چې پند واخلئ تاسې !.

تفسیر: ښایي د الله تعالی په اوامرو او نواهیو باندې په کلکې عقیدې سره عمل وکړئ ! که د الله تعالی په نامه نذر پر ځان ومنئ، یا قسم وخورئ؛ ښایي چې هغه پر ځای کړئ ! ولې په دې شرط سره چې په کومې نامشروعې خبرې نه وي.

وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾

او (حکم کړی دی الله چې) په تحقیق دغه (د دې سورت ذکر شوي احکام) لاره ځما ده برابره (جنت ته)، نو متابعت وکړئ تاسې د دغې (لارې)، او مه کوئ متابعت د (نورو کږو) لارو؛ نو

تار په تار به کړي (دغه متابعت) تاسې له لارې (سمې) د الله نه (چې د وحيې اتباع او د برهان اقتفاء ده)، دا (اتباع د سمې لارې) حکم کړی دی (الله) تاسې ته په دې سره لپاره د دې چې ځان وساتئ تاسې (له ګمراهۍ نه).

تفسير: يعنې د پورتنيو مذکوره احکامو تعميل او د الله تعالى د عهد عملاً او اعتقاداً پوره کول، همدغه سمه لاره (صراط مستقيم) ده، چې د هغې د طلب تلقين د (الفاتحه) په سورت کې په ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾ سره شوې ده، دغه لاره تاسې ته درښوولې شوې ده، اوس پر هغې سم برابر تلل ستاسې کار دی، هر څوک چې پرته له دې لارې تګ وکړي؛ نو د الله تعالى له لارې څنې بې لارې او ګمراه کيږي.

تنبيه: له عبد الله بن عبّاس رضي الله تعالى عنهما څخه روايت دی، چې دغه درې مذکوره آيتونه چې په لسو احکامو مشتمل دي؛ له محکماتو څنې دي، چې په هيڅ شريعت کې يې نسخ نه ده راغلې.

ثُمَّ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ تَمَامًا عَلَى الَّذِيْٓ اَحْسَنَ وَتَفْصِيْلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٥٤﴾

پس (له دې نه دا واورئ چې) ورکړی وو مونږ موسى ته کتاب (تورات) لپاره د تمام (پوره کولو د نعمت) پر هغه چا باندې چې نيکي کوي او (لپاره د بيان او) تفصيل د هر (ديني) شي او (لپاره د) هدايت او رحمت لپاره د دې چې دوی په ملاقات درب خپل ايمان راوړي.

تفسير: معلوميږي هغه احکام چې پاس له ﴿قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ﴾ څخه تر دې ځايه پورې مونږ ته اورولي شوي دي؛ دغه همېشه جاري او ګرد انبياء عليهم السلام او شرائع پرې متفق وو، وروسته الله تعالى پر موسى عليه السلام تورات نازل کړ، چې شرعي احکام په کې په زيات تفصيل سره مندرج وو، د «تورات» له اعطاء څخه وروسته د هغې زمانې پر نيکي کوونکو باندې الله تعالى خپل نعمتونه پوره او کامل کړل، د هر يوه ضروري شي احکام يې په شرح او بسط سره بيان وفرمايل، او د هدايت او رحمت وَرونه يې مفتوح کړل؛ تر څو خلق پرې په ښه شان سره وپوهيږي، او پرې عمل وکړي، او له خپل الله تعالى سره د ملاقات پوره يقين حاصل کړي.

وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ فَاتَّبِعُوْهُ وَاتَّقُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿١٥٥﴾

او دا (قرآن يو) کتاب دی چې نازل کړی دی مونږ هغه مبارک (برکتناک ډېر ګټور) دی؛ نو متابعت وکړئ تاسې د دغه (قرآن) او وويرېږئ (له عذابه او ځان وساتئ له مخالفته يې) لپاره د دې چې په تاسې رحمت وکړ شي.

اَنْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اُنْزِلَ الْكِتٰبُ عَلٰى طَآئِفَتَيْنِ مِنْ قَبْلِنَا وَاِنْ كُنَّا عَنْ دِرَاسَتِهِمْ لَغٰفِلِيْنَ ﴿١٥٦﴾

(او نازل کړی وو مونږ دا کتاب لپاره د دې) چې و (نه) وايئ (ای عربو په قيامت کې): بېشکه خبره دا ده چې نازل شوی وو کتاب پر دوو طائفو (يهودو او نصاراوو) پخوا له مونږه، او بېشکه شان دا دی چې وو مونږ له لوستلو او لولولو د دوی څخه غافلان (ناپوهان چې ځمونږ په ژبې نه وو).

تفسير: يعنې د دې مبارک کتاب لوی قرآن له نزوله وروسته د عربو اميانو ته د داسې وينا موقع نه ده پاتې شوې، چې هغه پخواني آسماني کتابونه چې د الله تعالى پر شرائعو مشتمل دي، او پخوا له دې نازل شوي دي، ځمونږ له علم او پوهې سره سم په هغو دواړو فرقو يهودانو او نصرانيانو باندې نازل شوی دی، چې هغه خلق يې پخپلو منځونو کې سره

لولي او لولوي يې، او ځينو د هغو ترجمه په عربي سره هم کوله، مثلا «ورقة بن نوفل» او نور له ډېرې مودې راهيسې په دغه شوق، رغبت، فکر او انديښنه کې مشغول او لګيا وو، چې عرب يهود کړي، يا يې نصراني وګرځوي، مګر مونږ د دوی له هغو تعليماتو، تدريساتو، ښوونو او ويناوو سره هيڅ علاقه او ارتباط نه درلود (لرلو).

بحث په دې کې نه دی؛ چې کوم شی چې يهودان او نصرانيان لولي او لولوي يې، تر کومې اندازې پورې پخپل اصل سماوي صورت محفوظ پاتې دی، بلکه يواځې مقصود هم دغومره دی، چې د دې شرائعو او کتابونو اصلي مخاطبان فقط بني اسرائيل وو، اګر که د هغو د تعليم ځينې اجزاء لکه د توحيد او ديني اصولو دعوت د خپلې پراختيا او تعميم په اثر له بني اسرائيلو څخه ما سوا د نورو اقوامو په حق کې هم عام شوی وي، او سره له دې کوم شريعت او سماوي کتاب چې په مجموعي هيئت سره پر کوم خاص قوم د هغوی د مخصوصو فوائدو لپاره نازل شوی وي، که د هغه له درس او تدريس سره نور اقوام خصوصاً عربو غوندې يو غيور او ځان باندې ځانمنې قوم څه علاقه او اړه ونه لري؛ څه مستبعد نه دی، نو ځکه دوی ويلی شو چې کوم آسماني کتاب او شريعت ځمونږ په لوري نه دی راغلی، او مونږ له هغو شرائعو سره چې د بل کوم مخصوص قوم لپاره لېږلي شوي دي؛ دومره علاقه نه لرو، نو بيا به مونږ د شرائعو په ترک ولې مأخوذ کيږو؟

مګر نن دوی ته د داسې حيلو او پلمو (بهانو) کولو موقع نه ده پاتې، د الله تعالی حجّت د ده د روښان کتاب د عمومي هدايت او رحمت باران مخصوصا د دوی په کورونو نازل کړی شوی دی، تر څو دوی پخپله هم ترې لومړی مستفيد شي، او بيا دا د الله تعالی امانت او رحمت تمام سور، تور، زېړ، سپين او نورو نسلونو او توکمو او د مشرق (لمر خاته) مغرب (لمر پرېواته) شمال (ښې) او جنوب (سهيل) ګردو (ټولو) هستېدونکو ته په ډېر احتياط او حفاظت سره ورسوي، ځکه چې دغه کتاب د کوم خاص قوم او ملک لپاره نه دی لېږلی شوی، او د ده مخاطب ګرد (ټول) جهان دی، لکه چې د الله تعالی په فضل او توفيق د عربو په وسيله د ملک العلاّم دغه آخري او عام پيغام د دنيا ټولو ځايونو ته تبليغ او اعلام شوی دی، والحمد لله علی ذلک.

أَوْ تَقُولُوا لَوْ أَنَّا أُنْزِلَ عَلَيْنَا الْكِتَابُ لَكُنَّا أَهْدَىٰ مِنْهُمْ ۚ فَقَدْ جَاءَكُمْ بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ ۚ

يا چې و (نه) وايئ (ای عربو په قيامت کې) که وئ مونږ چې نازل کړی شوی وی پر مونږ باندې کتاب (لکه چې په دوی نازل شوی دی)؛ نو هرو مرو (خامخا) وو به مونږ ښه لاره موندونکي له دوی نه، نو په تحقيق راغلی دی تاسې ته حجّت ښکاره (عربي قرآن) له رب ستاسې او هدايت او رحمت (له جانبه د الله ای مؤمنانو پس متابعت کوئ د ده).

تفسير: يعنې د پخوانيو امتونو د احوالو له اورېدلو څخه ښايي ستاسې په زړونو کې داسې يو هوس، ارمان، شوق، ذوق او ولوله پيدا شوي وی، که پر مونږ باندې د الله تعالی کتاب نازل شوی وی؛ نو مونږ به له نورو ځنې زيات عمل پرې کاوه، او نورو ته به مو د خپلو ښو اعمالو آثار ورښوول، نو ځکه تاسې ته له هغوی ځنې ډېر ښه کتاب درکړ شو، څو اوس په علم الشّهود سره هم وګورو چې څوک ښه عمل پرې کوي؟ او خپل محاسن ښوولی شي؟.

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَّبَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَصَدَفَ عَنْهَا ۗ سَنَجْزِي الَّذِينَ يَصْدِفُونَ عَنْ آيَاتِنَا سُوءَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوا يَصْدِفُونَ ﴿١٥٧﴾

نو څوک دی زيات ظالم (يعنې نشته لوی ظالم) له هغه چا چې نسبت د دروغو کوي په آيتونو د الله، او څنګ کوي (ګرځي) له دې (آيتونو) ځنې، ژر به (مونږ) سزا ورکړو هغو کسانو ته چې

څنګ کوي (ګرځي) دوی له آیتونو څمونږ څخه سخت عذاب په سبب د دې چې وو دوی چې څنګ به یې کاوه (ګرځېدل به له حق څخه).

تفسیر: اوس که وروسته د داسې روښان او بې مثاله کتاب له درتللو څخه څوک چې د ده آیتونو ته د دروغو نسبت و کړي، یا یې له قبلولو ځنې غاړه وغړوي، یا د نورو مخه ونیسي، چې پرې ایمان رانه وړي، نو له ده ځنې لوی ظالم به بل نه وي.

تنبیه: د ﴿وَصَدَفَ عَنْهَا﴾ دوه معناګانې له اسلافو ځنې منقولې دي: «امتناع»، او «اعراض»، دلته مغفور شیخ الهند د «اعراض» معنی غوره کړېده.

هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا أَنْ تَأْتِيَهُمُ الْمَلَائِكَةُ أَوْ يَأْتِيَ رَبُّكَ أَوْ يَأْتِيَ بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ ۗ يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا ۗ قُلِ انْتَظِرُوا إِنَّا مُنْتَظِرُونَ ﴿١٥٨﴾

نه کوي انتظار دوی (د هیڅ شي) مګر د دې چې راشي دوی ته ملائکې (پرښتې د موت یا د عذاب) یا راشي رب ستا، یا راشي ځینې دلائل (د قدرت) د رب ستا (چې علامې د قیامت دي): په هغه ورځ کې چې راشي ځینې دلائل د (قدرت) د رب ستا؛ نه به رسوي فائده (نفع) هیڅ نفس ته ایمان راوړل د ده، چې نه وي دا نفس چې ایمان یې راوړی وي پخوا (له دې نه) یا (نه وي) چې کسب یې کړی وي په ایمان خپل کې څه خیر (نیکي)، ووایه (ای محمده ! دوی ته) چې انتظار کوئ تاسې، بېشکه مونږ هم انتظار کوونکي یو.

تفسیر: یعنې د الله تعالی له لوري د هدایت معین حد پوره شو، انبیاء علیهم السلام مبعوث او شرائع نازل شول، او آسماني کتابونه راښکته شول، تر دې چې د پاک الله وروستنی کتاب هم راغی، نو بیا هم یې دوی نه قبلوي، نو ښایي چې دوی دې خبرې ته سترګې په لار ناست وي، چې پخپله پاک الله یا پرښتې راشي، یا د قدرت کومه لویه علامه (لکه قیامت یا کوم بل لوی دلیل) ښکاره شي.

نو باید په شئ چې د قیامت له علائمو ځنې یوه علامه دا هم ده؛ چې د هغه له ظهور نه وروسته نه د کافر ایمان راوړل او نه د عاصي توبه کول معتبر دي.

د صحیحینو احادیث دا راښیي چې دغه علامه د مغرب له لوري د لمر ختل دي، یعنې کله چې د پاک الله اراده د دنیا په ختمولو باندې وشي، او د موجوده عالم نظام سره ګډوډ او ویجاړ شي، نو د موجوده طبیعي قوانینو په خلاف به ډېر عظیم الشأن خوارق او لویې بې مثاله او بې ساري پېښې واقع شي، چې د هغو له جملې نه یوه دا ده چې لمر به د مشرق په ځای له مغربه راخرګند شي.

د «مغرب له خوا د لمر له ختلو» څخه وروسته به د ګرد عالم په حق کې همدغه حکم وي، چې د هیڅا ایمان او توبه به معتبره نه وي، په ځینو روایاتو کې د «طلوع الشمس من مغربها» سره ځینې نورې علامې هم بیانې شوي دي، مثلا «خروج الدجّال، خروج الدّابّه» او نور.

د دې روایاتو څخه داسې مطلب څرګندیږي: کله چې د دغو علائمو ګڼه (ټوله) مجموعه متحققه شي، او دغه هلته کېدی شي چې «طلوع الشمس من المغرب» هم متحقق شي، نو د توبې ور تړل کیږي، او بیا بیل پر هره علامه باندې دا حکم نه دی متفرع.

ځمونږ د زمانې ځینو ملحدانو چې هرې یوې فوق العاده واقعې ته د استعارې په رنګ ورکولو سره عادي دي، دوی د «طلوع الشمس من المغرب» د استعارې جوړولو په فکر کې هم دي، غالبا د دوی په فکر کې به د قیامت راتګ هم تش یو ډول استعاره وي. (العیاذ بالله).

تنبيه: دا چې فرمايي: «راشي پرښتې يا راشي رب ستا»؛ د دې تفسير په دويم جزء د بقرې سورت په (٢١٠) آيت (٢٥) رکوع کې د ﴿هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا أَن يَأْتِيَهُمُ اللَّهُ فِي ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ﴾ الآيه - کې تېر شوی دی، هلته دې ولوستل شي !، او د ﴿أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا﴾ د جملې عطف پر ﴿آمَنَتْ مِن قَبْلُ﴾ دی، او د عبارت تقدير د ابن المنير «رحمه الله» او نورو محققينو «رحمهم الله» په نزد داسې دی:

«لا ينفعُ نفساً إيمانُها أو كسبُها خيراً لم تكن آمنت من قبل أو لم تكن كسبتْ في إيمانها خيراً» «يعنې هغه چې لا له پخوا يې ايمان نه وي راوړی په هغه وخت کې به يې ايمان نه نافع کيږي، او هغه چې لا له پخوا يې د خير کسب نه وي کړی؛ د ده دخير کسب به نافع نه وي، يعنې توبه يې نه قبليږي».

إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ إِنَّمَا أَمْرُهُمْ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿١٥٩﴾

بېشکه هغه کسان چې تار په تار کړی يې دی دين خپل (چې ځينې يې مني او ځينې يې نه مني) او شول دوی فرقې فرقې؛ نه يې ته له دوی نه په هيڅ شي کې (يعنې هيڅ تعرض ورته مه کوه !)، بېشکه همدا خبره ده چې امر (کار) د دوی (سپارلی شوی دی) الله ته، بيا به خبر کړي (الله) دوی په هغه چې وو دوی چې کول به يې.

تفسير: په ﴿إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ﴾ سره يې بيا اصل مطلب ته رجوع وکړه، يعنې د الهي دين لاره (صراط مستقيم) يوه ده، هغه کسان چې د دين په اصل کې تفرقه پيدا کوي، او په خپل سر بېلې بېلې لارې راباسي، او دکوند (دله) اوکوندبازی (دله بازی) په بلا آخته کيږي، که دوی يهوديان وي يا نصرانيان يا هغه د اسلام مدعيان چې په مستقبل کې د ديني عقائدو د څادر څيروونکي دي، له دغو خلقو سره ستاسې هيڅ غرض او کار نشته، دا ګرد (ټول) په ﴿فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ﴾ کې داخل دي، تاسې له دوی ځنې د برائت او بېزاری اعلان وکړئ !، او د پاک الله په همغسې سمې صافې لارې (صراط مستقيم) باندې ټينګ رهي (روان) اوسئ ! او د هغوی عاقبت او انجام پاک الله ته وسپارئ ! الله تعالى به په دنيا يا په آخرت کې دوی ته د هغوی د اختلاف او انشقاق نتائج ورڅرګند کړي. (چې انتقام ترې اخلي په دنيا کې، او که آخرت ته يې پرېږدي، او که توبه پرې باسي).

مَن جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا وَمَن جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰ إِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦٠﴾

هر هغه چا چې راتله يې وکړه په يوه نېکۍ نو ده ته ده (جزاء د) لسو (نېکيو په) مثل د هغې (نېکۍ)، او هر هغه څوک چې راتله يې وکړه په بدۍ نو سزا نشي ورکولى (ده ته) مګر په مثل د همغې (بدۍ)، او په دوی به ظلم ونه کړی شي (په تنقيص د ثواب يا په تزييد د عقاب).

قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٦١﴾

ووايه (ای محمده ! دغو متفرقانو ته): بېشکه زه چې يم هدايت (ښوونه) کړېده ما ته رب ځما لارې سمې برابرې ته دين صحيح برابر، ملت (دين) د ابراهيم، حال دا چې حنيف وو (په حق دين ټينګ ولاړ وو، او له باطله څخه بېزاره وو) او نه وو له مشرکانو (لکه چې مشرکان وايي).

قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٦٣﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) بېشكه لمونځ ځما او قرباني ځما او (طاعتونه د) ژوندون ځما او مرګ ځما (پر صالح عمل) خاص الله لره دى چې رب (پالونكى) د ټولو عالميانو (د جهان) دى. نشته هيڅ شريك ده لره (په دغو تېرو عبادتونو كې) او په هم دې (توحيد) امر (حكم) كړى شوى دى ماته او زه اول د مسلمانانو (الله ته غاړه ايښودونكو) ځخه يم.

تفسير: په دې آيت كې د توحيد او د تفويض د خورا (ډېر) لوړ مقام سراغ او پته ورکړى شوې ده، چې پر هغه ځمونږ سردار او محمد مصطفى صلى الله عليه وآله وصحبه وسلم فائز او كامياب شوى دى، د لمانځه او د قربانۍ له ذكره په خصوصيت سره د هغو مشركانو تردید بالتصريح وشو؛ چې بدني عبادت او قرباني به يې د غير الله په نامه كوله.

قُلْ أَغَيْرَ اللَّهِ أَبْغِي رَبًّا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ

ووايه (اى محمده ! دوى ته) آيا بې له الله غواړم زه بل رب (پالونكى؟ بلكه نه يې غواړم) حال دا چې هم دى رب د هر ځيز دى.

تفسير: پخوا د توحيد في الالوهيت ذكر وو، اوس د توحيد في الربوبيت تصريح فرمايي، يعنې همداسې چې معبود ما سوا له ده بل ځوك نه دى؛ مستعان هم بل هيڅوك نشي كېدى.

وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿١٦٤﴾

او كسب نه كوي (د بدى) هيڅ يو نفس مګر (ضرر يې دى) پر (ذمه د) ده، او نه باروي هيڅ نفس ګناهګار ګناه دبل نفس (بلكه هر ځوك خپل بار وړي)، بيا خاص طرف د رب ستاسې ته ببرته ورتلل ستاسې دي (په قيامت كې) نو خبر به كړي تاسې په هغه شي چې وئ تاسې چې په هغه كې به مو اختلاف كولو (په دنيا كې په ديني امورو كې).

تفسير: كفارو له مسلمانانو سره په توحيد او نورو امورو كې جګړې كولې، او ويل به يې چې راشئ د توحيد لار پرېږدئ، او ځمونږ د شرك په لارې رادرومئ، كه په دې كې په تاسې باندې څه ګناه راشي؛ هغه دې ځمونږ په غاړه وي: ﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا اتَّبِعُوا سَبِيلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطَايَاكُمْ وَمَا هُم بِحَامِلِينَ مِنْ خَطَايَاهُم مِّن شَيْءٍ ۖ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿١٢﴾﴾ (٢٠ جزء د العنكبوت سورت (١٢) آيت (١) ركوع) دلته د هغه ځواب ورکړى شوى دى، چې د هر چا ګناه د ده پخپله غاړه ده، يو د بل د ګناه ذمه واري نشي كولى، او نه د بل بار وړى شي، باقي ستاسې دا جګړې او اختلافونه كله چې د الله تعالى په حضور كې وړاندې شي؛ ګرد سره فيصله كېږي (او هلته به غالب او مغلوب (وړ ـ پر) درښكاريږي)، دا دنيا د فيصلې ځاى نه دى، بلكه د امتحان او ازموينې كور دى، لكه چې په پخواني آيت كې يې خبر راكړ.

وَهُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ الْأَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ ۗ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ ۖ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٦٥﴾

او دغه (الله) هغه ذات دی، چې ګرځولي يې يئ تاسې خليفګان د ځمکې او پورته کړي يې دي ځينې ستاسې د پاسه د ځينو (نورو په) درجو مرتبو کې، د دې لپاره چې وازمويي تاسې په هغو (حکمونو) کې چې درکړي يې دي تاسې ته، بېشکه رب ستا ډېر ژر دی عذاب (د ده پر هغه چا چې اراده وفرمايي) او بېشکه الله خامخا ښه بخښونکی دی (د شاکرينو) ډېر رحم کونکی دی (په شکر کوونکو).

تفسير: يعنې الله تعالى تاسې په ځمکه کې يو له بله نائبان او وکيلان ګرځولي يئ، چې يو قوم ځي، او بل قوم د هغه په ځای کيني.

﴿وَرَفَعَ﴾ «او پورته کړي يې دي ځينې ستاسې د پاسه د ځينو نورو په درجو مرتبو کې» يعنې ستاسې تر مينځ يې بې حده تفاوت او د مدارجو فرق کړی دی، لکه چې په شکلونو، صورتونو، رنګونو، لهجو، اخلاقو، ملکاتو، محاسنو، مزاياوو، رزقونو، دولتونو، عزتونو، مرتبو او نورو صفاتو او مميزاتو او خصلتونو کې د انساني افرادو په منځ کې بېشماره درجې شته (چې څوک يې عالمان کړل، څوک يې جاهلان، څوک يې بادشاهان کړل، څوک يې غريبان، څوک يې ماړه کړل، څوک يې وږي).

﴿لِيَبْلُوَكُمْ﴾: «د دې لپاره چې وازمويي تاسې په هغه (حکم) کې چې درکړی يې دی تاسې ته»، يعنې چې درښکاره شي په داسې حالاتو کې کوم يو تر کومه ځايه پورې د الله تعالى حکم مني، او وازمويي تاسې په هر هغه شي کې چې درکړی يې دی تاسې ته، لکه مال او جاه، چې معلوم او بېل شي شاکر له صابره.

ابن کثير «رحمه الله» له ﴿فِي مَآ ءَاتَىٰكُمْ﴾ ځنې هغه مختلفې درجې او احوال مرادوي، چې الله تعالى حسب الاستعداد او لياقت په انسانانو کې ايښي دي، په دې تقدير به د ازموينې حاصل داسې کيږي: مثلا غني د خپلې غنا په حالت کې تر کومه ځايه پورې شکر باسي؟ او فقير د فقر په حالت کې تر کومې اندازې د صبر ثبوت راخرګندوي؟ وقس عليه البواقي.

په هر حال هغه څوک چې په دغه ازموينښت کې بيخي نالايق ثابت شي، حق تعالى د ده په حق کې ﴿سَرِيعُ ٱلْعِقَابِ﴾ دی، او هر چا چې لږ قصور کړی وي؛ د هغه په حق کې «غفور» دی، او هر چا چې خپلې وظيفې پوره سرته رسولې وي؛ د هغه په حق کې «رحيم» دی.

(تمت سورة الأنعام بعون الله الملك العلّام)

(ونطلب منه في الدنيا حسن الإقدام وفي العقبىٰ حسن الإكرام)

سُورَةُ الأَعْرَافِ

«د (الأعراف) سورت مکي دی، پرته له (۱۶۳) تر (۱۷۰) آیت پورې چې مدني دي» «(۲۰۶) آیتونه (۲۴) رکوع لري، په تلاوت کې (۷) او په نزول کې (۳۹) سورت دی» «د (ص) سورت څخه وروسته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

الٓمٓصٓ ﴿١﴾ كِتَٰبٌ أُنزِلَ إِلَيْكَ فَلَا يَكُن فِي صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ

(دا) کتاب چې نازل کړی (لېږلی) شوی دی تاته (ای محمده !) نو نه دې وي په سینه ستا کې تنګي (د رسولو) د ده (چې له اولو به یې څوک نه مني).

تفسیر: ابن عباس رضي الله تعالی عنه د «حرج» معنی په شک سره کړېده، ځکه چې ﴿فَلَا يَكُن فِي صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ﴾ به له ﴿فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ﴾ سره یوه معنی ولري، رسول الله صلی الله علیه وسلم چې الله تعالی خپل کتاب پرې نازل فرمایلی دی، د ده له شانه څخه لرې ده، چې د هغه د احکامو او اخبارو په نسبت لږ څه اندېښنه یا شک او شبهه د ده په زړه کې لاره ومومي.

نورو مفسرینو دغه الفاظ پر خپلې ظاهري معنی ځکه باندې پریښي دي، لکه چې شیخ الهند «رحمه الله» هم دغه اختیار کړېده، یعنې هغه ته (چې له ځکدو خلائقو څخه غوره شوی، او کتاب پرې نازل شوی دی) وړ او لایق نه دي؛ چې د احمقانو او معاندانو له طعنو، بدو او چټې (فضول) سوالاتو څخه متأثر شي، او د دې کتاب د تبلیغ له کومې برخې څخه منقبض او زړه تنګی شي: ﴿فَلَعَلَّكَ تَارِكٌ بَعْضَ مَا يُوحَىٰ إِلَيْكَ وَضَائِقٌ بِهِ صَدْرُكَ أَن يَقُولُوا لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ كَنزٌ أَوْ جَاءَ مَعَهُ مَلَكٌ إِنَّمَا أَنتَ نَذِيرٌ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ﴾ (۱۲ جزء د هود سورت (۱۲) آیت، (۲) رکوع).

که په فرض محال سره پخپله د رسول صلی الله علیه وسلم په زړه کې د ده د کتاب او د هغه د مستقبل په نسبت په نهایت وثوق او انشراح سره قلبي اطمینان حاصل نه وي؛ نو دی به خپله د انذار او تذکیر فریضه په کوم قوّت او جرأت سره اداء کړي؟.

لِتُنذِرَ بِهِ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢﴾

لپاره د دې چې وویروې (ته ای محمده !) په دغه (کتاب) سره (کفار له جهنم څخه) او (لپاره د دې چې پند ورکړې پرې) په پند ورکولو سره مؤمنانو ته (یا دا قرآن پند دی لپاره د مؤمنانو).

تفسیر: یعنې د کتاب له نزوله دا غرض دی، چې تاسې ځکدې دنیا ته د دوی له مستقبل او د بدی له انجام څخه خبر ورکړئ، او دغه د مؤمنانو په حق کې په خاص طور سره د یوې مؤثرې وینا او پند په شان ثابت شي.

اتَّبِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ ۗ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٣﴾

متابعت وکړئ (ای مکلفانو !) د هغه شي چې نازل کړی (لېږلی) شوی دی تاسې ته له (جانبه د)

رب ستاسې، او متابعت مه کوئ تاسې بې له الله د (نورو) دوستانو (خپلو چې شیاطین دي)، لږ شانې پند اخلئ تاسې.

تفسیر: «﴿قَلِيلًا﴾ مفعول مقدم دی ﴿تَذَكَّرُونَ﴾، او ﴿مَّا﴾ زائده ده»، انسان که د حق تعالی د لوی تربیت په برکت د خپل ابتداء او انتهاء، او د طاعت او معصیت پر نتائجو په پوره ډول فکر او دقت وکړي؛ نو هیڅېرې به داسې جرأت ونه کړي، چې د خپل کریم پروردګار نازل شوي هدایات پرېږدي، او د شیاطین الانس والجن په رفاقت خوښ او د دوی متابعت وکړي، له تېرو اقوامو ځنې د هغو کسانو چې د الله تعالی د کتابونو او د رسولانو په مقابل کې یې داسې رویه غوره کړې وه، او هغوی ته کومې دنیوي سزاوې چې ورکړی شوي دي؛ وروسته راځي.

وَكَمْ مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا فَجَاءَهَا بَأْسُنَا بَيَاتًا أَوْهُمْ قَائِلُونَ ﴿٤﴾ فَمَا كَانَ دَعْوَاهُمْ إِذْ جَاءَهُم بَأْسُنَا إِلَّا أَن قَالُوا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿٥﴾

او ډېر له (اوسېدونکو د) قریو (د کفارو او فجارو) ځنې هلاک کړي دي مونږ دوی، نو رابه غی (اهل د) هغو ته عذاب ځمونږ حال دا چې دوی اوده (غافل) به وو د شپې (لکه قوم د لوط) یا اوده (غافل) به وو په غرمه کې (لکه قوم د شعیب). نو نه به وه وینا د دوی کله چې رابه غی دوی ته عذاب ځمونږ مګر دا چې ویل به دوی: بېشکه چې مونږ وو مونږ ظالمان (پخپلو ځانونو چې د رسولانو تکذیب مو کولو).

تفسیر: یعنې کله چې د دوی ظلم او عدوان، کفر او عصیان له حده تېر شو، نو په دنیوي لذاتو او شهواتو کې آخته او غرق او د الله تعالی له عذابه بالکل بې فکره او د استراحت اخیستلو په مزو کې ډوب شول، چې ناڅاپه ځمونږ عذاب پرې نازل شو، بیا نو له دوی ځنې په دې دهشتناکې منظرې او هلاک کوونکې نندارې او اله ګوله کې ګردې لویې، ځانمنې (لویې) او تکبر هېر شول، او له هر لوري د ﴿إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ﴾ چیغه پورته او پرته (علاوه) له زاری، ننواتې، ژړا او انګولا ځینې بل هیڅ شی به نه اوربدل کیږي، ګواکې په دغه وخت کې دوی ته واضح او څرګندیږي، او دوی پخپله اقرار کوي، چې پاک الله په هیڅا باندې ظلم نه کوي، مونږ پخپله پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی.

تنبیه: د ﴿فَجَاءَهَا بَأْسُنَا﴾ د (ف) په نسبت د مفسرینو څو اقواله دي، غالبا شیخ الهند «رحمه الله» هغه د ﴿أَهْلَكْنَاهَا﴾ تفسیر او تفصیل مقرر کړی دی، لکه چې ویلی شي:) «توضأ فغسل وجهه وذراعیه» «هغه سړي اودس وکړ، نو یې ووینځل خپل مخ او دواړه لاسونه او نور اعضاء» په دې مثال کې د مخ او لاسونو وینځل، د اودس کولو تفصیل او تفسیر دی، همداسې دلته د هلاک کولو د تفسیر او تفصیل کیفیت په عذاب سره بیان کړ شو، والله أعلم.

عامو مفسرینو د دې آیت ترجمه داسې کړې ده: «او ډېر دي له اوسېدونکو د کلیو د کفارو او فجارو، چې هلاک کړي دي مونږ یعنې اراده کړې وه مونږ د هلاکولو د دوی، پس راغلی دی اهل د هغه ښار ته عذاب ځمونږ د شپې چې وخت د غفلت او خوب دی، یا به دوی د غرمې په خوب اوده وو، چې وخت د آرام او راحت دی، او عذاب په کې ډېر سخت وي».

فَلَنَسْـَٔلَنَّ الَّذِينَ أُرْسِلَ إِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ الْمُرْسَلِينَ ﴿٦﴾

نو خامخا وبه پوښتو (په قیامت کې) هرومرو (خامخا) هغه (امتونه) چې لیږلي شوي دي دوی ته (رسولان چې څه اجابت یې کړی دی)، او خامخا وبه پوښتو هرومرو (خامخا) رسولان (هم له اداء د رسالت او له ابلاغه د احکام او د دې چې ستاسې امتونو څرنګه اجابت وکړ؟).

تفسير: له هغو امتونو څخه چې پيغمبران په کې مبعوث ورلېږلي شوي دي پوښتنه کيږي: ﴿مَاذَآ أَجَبْتُمُ ٱلْمُرْسَلِينَ﴾ القصص: ۶۵ «تاسې ځمونږ د مرسلانو بلنه تر کوم ځای پورې منلې ده؟» او له مرسلانو څخه پوښتنه کي چې: ﴿مَاذَآ أُجِبْتُمْ﴾ المائدة: ۱۰۹ «تاسې ته د امت له لوري څه ځواب درکړی شوی وو؟».

فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِم بِعِلْمٍ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ ۝٧

نو خامخا بيان به کړو مونږ هرو مرو (خامخا) (احوال د هغوی) دوی ته په علم سره، او نه يو مونږ غائبان (له اعمالو د دوی، بلکه عالمان او شاهدان يو).

تفسير: يعنې ستاسې هيڅ يو لوی او وړوکی، ډېر او لږ عملونه، يا ظاهري او باطني احوال ځمونږ له علمه غائب نه دي، مونږ بې د نورو له وسيلې له يوې يوې ذرې خبردار يو، له خپل ازلي محيط علم سره سم ګرد (ټول) پخواني او وروستني احوال او افعال په ښکاره ډول تاسې ته مخامخ کښبودی شو، هغه اعمالنامې چې د ملائکو له خوا ليکلې شوي دي؛ د يوه ويښته په اندازه هم له علم الله څخه نشي مخالفې کېدی، او د هغو په وسيله اطلاع ورکول يوائې د ضابطې مراعات او د حکومتي نظام مظاهره ده، که نه الله تعالی پخپل علم کې معاذ الله دغو ذرائعو ته له سره نه محتاجيږي.

وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ ٱلْحَقُّ ۚ فَمَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُۥ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ۝٨ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُۥ فَأُولَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُم بِمَا كَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا يَظْلِمُونَ ۝٩

او تول (د عملونو) په دغې ورځې کې حق (رښتينی، يقينی او برابر) دي (لپاره د قطع د عذر)، نو د هر چا چې درانه وختل تولونه (يا تللي شوي نېک عملونه) د ده؛ نو دغه کسان همدوی دي په مراد رسيدلي (بريالي). او د هر چا چې سپک وختل تولونه (يا تلل شوي بد عملونه) د ده (يعنې له نظره ولوېد) نو دغه کسان هغه دي، چې زيان يې رسولی دی دوی نفسونو (ځانونو) خپلو ته (په رسولو يې اور ته) په سبب د هغه چې وو دوی چې په آيتونو ځمونږ به يې ظلم (او ترې انکار به يې) کاوه.

تفسير: د قيامت په ورځ کې د ګردو (ټولو) خلقو اعمال وزن کيږي، هغه کسان چې قلبي اعمال او د جوارحو افعال يې درانه وي؛ دوی به بريالي (بامراده) وي، او د هر چا وزن چې سپک شي، دی به په خساره کې پاتې وي.

شاه صاحب فرمايي: «د هر چا عمل له وزن سره موافق ليکل کيږي، که يو کار له اخلاص او محبت او شرعي احکامو سره موافق او سم وکړی شي، او پخپل وخت اداء کړ شي؛ نو د هغه وزن به زياتيږي، او که همغه عمل په ريا او ريب ځان ښودنې يا له حکمه ځنې چپ يا يې پخپل وخت کې کړی نه وي؛ نو وزن يې کميږي».

په آخرت کې هغه کاغذونه تللې کيږي؛ چې پر هغو د انسانانو اعمال او احوال قيد او ضبط وي او د عملونو، او عاملينو وزن هم په نصوصو کې راغلی دی، نو که حسنه اعمال درانه وختل؛ نو له سيئاتو څخه يې تېريږي، او که حسنات يې سپک وختل نو بيا نيول کيږي.

د نصوصو له مخې مونږ ته دومره راڅرګند شوي دي، چې وزن له داسې يو ميزان (تلې) سره کيږي، چې په کې کفّتين (پلې) او شاهين (ډنډی) او لسان (موتی) او نور شته، ليکن د دغه ميزان او تلې دا دواړه کِفّتين به څه نوعيت او کيفيت لري؟ او د هغو د تول معلومولو طريقه او اصول به څرنګه وي؟ د داسې خبرې احاطه کول ځمونږ د عقلونو او افهامو له اندازې څخه لرې دي، او ځمونږ پوهه ورته نشي رسېدلی، نو ځکه د هغو په پوهېدلو سره مونږ نه يو مکلف کړی شوي، بلکه يو ميزان لا څه، د هغه عالم څومره نور شيان چې دي، غير له دې چې مونږ يې يوائې په نامه خبر يو،

او اورو يې، او د هغو په نسبت همغسې عقيده او دومره اجمالي معلومات لرو؛ چې مفهوم يې مونږ ته پاک قرآن او يا مبارک سنت رابنوولی دی، له هغه څخه پر زياتو تفصيلاتو ځمونږ مطلع کېدل ځمونږ د فکر او پوهې له قوت او قدرته وتلي او خارج دي، ځکه د هغو نوامیسو او قوانينو لاندې به چې د هغه ابدي عالم وجود نظم او نسق وي، پر هغو باندې مونږ سره له دې چې اوس په دې فاني عالم کې هستوګنه لرو؛ نشو پوهېدې.

د همدې ورې دنيا موازينو (تلو) ته وګورئ ! چې څو انواع او اقسام لري؟ يوه تله ميزان هغه ده چې طلا، نقره او جواهرات پکې تلل کيږي، بله هغه ترازو ده چې غلې، دانې، لرګي، ميوې او نور شيان په کې تلل کيږي، بله هغه عمومي تله ده؛ چې لوی تجارتي پيټي او بارونه پرې تلل کيږي، او اوزان په هغو ستنو (عقربونو) سره راځرګندوي، چې د ساعت د ستنې په شان وي، او بله هغه تله ده؛ چې نبي او کينې لور ته په سانتيګرامونو او ديسيګرامونو خطونو ويشلې شوې ده، او په يوه وړوکي لنګر سره هيسته راهيسته دبخوا هغې خوا کاوه شي.

برسېره پر دی «مقياس الهواء»، «مقياس المياه»، «مقياس الحراره»، «مقياس الرّطوبه»، «مقياس الارتفاع»، «ميزان التضييق» او نور هم يو يو ډول موازين دي، چې په هغو سره د هوا او د اوبو تودوخې، او د لندبلو او د لوړوالي او د تضييق او د حرارت او برودت او نورو شيانو درجې ځانته راځرګندوو، «ترمامېتر» ځمونږ د بدن د داخلي حرارت (چې له اعراضو څخه دی) داسې اندازه او تول رابنکاروي؛ چې اوس ځمونږ په وجود کې دومره درجه تودوخه شته، کله چې په دنيا کې مونږ په شلهاوو داسې جسماني موازين وينو، چې په هغو سره د أعيانو او أعراضو اوزان او درجې او د هغو د تفاوت او توپير (فرق) معلوموو؛ نو د هغه قادر مطلق، خالق بر حق لپاره به دا خبره څه اشکال لري، چې دې داسې يوه حسي تله هم قائمه کړې، چې په هغې سره ځمونږ د اعمالو او احوالو د اوزانو او درجاتو تفاوت او توپير (فرق) صورتاً او حساً ظاهر او را څرګند شي.

﴿بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا يَظْلِمُونَ﴾: په سبب د هغه چې وو دوی چې په آيتونو ځمونږ به يې ظلم کاوه، او تړې به يې انکار کولو، او همدا له آيتونو څخې انکار کول د هغه حق تلفي ده، چې هغه يې په (يظلمون) سره اداء وفرمايله.

وَلَقَدْ مَكَّنَّاكُمْ فِي الْأَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ ۗ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿١٠﴾

او خامخا په تحقيق ځای (او قدرت او تصرّف) درکړی دی مونږ تاسې ته (ای انسانانو !) په ځمکه کې او پيدا (مقرر) کړې دي مونږ تاسې ته په دغې ځمکې کې (هر قسم اسباب د) ژواندنه، لږ شانې شکر وباسئ تاسې.

تفسير: دغه ﴿قَلِيلًا﴾ هم منصوب او ﴿مَّا﴾ زائده ده، له دې ځايه د ځينو آفاقيه وو او انفسيه وو آيتونو ذکر او بيان شروع کيږي، چې په هغو سره له يوه لوري د حق تعالى پر وجود باندې د دې جهان د کارخانې په حکيمانه نظم او نسق سره استدلال، او د الله تعالى د احساناتو او انعاماتو تذکره فرمايي، او د هغو د شکر د اداء کولو په لوري توجه ورکړی شوې ده، او له بل لوري د نبوّت ضرورت او د انبياوو عليهم السلام د راتګ او د دوی د سيرت، او د هغوی د متبعينو او د مخالفينو پای (آخر) او انجام (چې د دې سورت اصلي موضوع رابنکاري) بيانيږي، چې دغه آيتونه د هغو د توطيې او تمهيد په ډول مقدم کړی شوي دي.

وَلَقَدْ خَلَقْنَاكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَاكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ ۖ لَمْ يَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ ﴿١١﴾ قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ ۖ قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ۖ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ ﴿١٢﴾ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَاخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ الصَّاغِرِينَ ﴿١٣﴾

او خامخا په تحقيق پيدا کړ مونږ (پلار) ستاسې، بيا صورت جوړ کړ مونږ د (پلار) ستاسې، بيا

وويل مونږ پرښتو ته چې سجده (د تحيّت) وکړئ تاسې آدم ته، نو سجده وکړه دوی (ټولو) مګر ابليس (سجده ونه کړه او) نه وو دی له سجده کوونکو ځنې. وويل (الله ابليس ته): څه شي منع کړی ته (ځما د حکم د تعميل څخه) چې سجده دې ونه کړه ،کله چې امر (حکم) وکړ ما تاته !؟، وويل (ابليس): زه غوره يم له آدمه، چې پيدا کړی دې يم زه له اوره، او پيدا کړی دی تا دغه (آدم عليه السلام) له خټې ځنې، وويل (الله ابليس ته): نو کوز شه !له دغه (آسمان يا جنت) څخه؛ نو نه دی لايق تاته (ای ابليسه ! دا کار) چې تکبّر (لويې نافرماني) وکړې په دې ځای کې؛ نو ووځه (تړې) بېشکه چې ته يې له ذليلانو.

تفسير: د اور خاصه خفت، حدّت، سرعت، طيش، علوّ او افساد دی، خلاف له خاورې چې په مزاج کې يې استقلال، متانت، تواضع، حلم، او ثبات شته، ابليس چې ناري الأصل وو؛ د سجدې د حکم له اوربدلو څخه د اور تکه سره لمبه شو، او په رأي قائمولو کې يې تلوار او جلتي وکړه، او په پای (آخر) کې د سرعت، تکبر او تعالي له لارې د رڅې (کينې) او حسد په اور کې ولوېد، چې د هغه له سببه د دوزخ په اور کې هم نسکور شو، د ده په خلاف کله چې له آدم عليه السلام څخه غلطي صادره شوه، نو دغه خاورين عنصر ته الله تعالی په خپل فضل او کرم سره د عاجزی، انکسار، انقياد، استکانت، او استغفار لاربښوونه وکړه، لکه چې د ده استقامت او انابت د ﴿ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّهُ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدٰى﴾ نتيجه پيدا کړه، نو ځکه ويل کيږي، چې لعين ابليس د خپلې مادې او عنصر له لحاظه هم د خپل تفضيل او لويي په ادعا کې وغولېد، لکه چې «حافظ شمس الدين ابن القيم «رحمه الله» په «بدائع الفوائد» کې په (۱۵) وجوهو سره د خاورو افضليت پر اور باندې ثابت کړی دی، ومن شاء فليراجعه.

قَالَ أَنظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿۱۴﴾ قَالَ إِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ ﴿۱۵﴾

وويل (ابليس چې ای الله !) وګوره (مهلت راکړه) ماته (او مه مې وژنه) تر هغې ورځې (قيامت) پورې چې مخلوق بېرته ژوندي کولی شي (او له خپلو قبرونو پاڅولی شي) !. وويل (الله): بېشکه ته له کتلو (مهلت ورکړ) شويو ځنې يې (تر اولې نفخې پورې).

تفسير: يعنې څرنګه چې تا داسې غوښتنه وکړه، نو وپوهېږه چې دغه خبره لا له پخوا څخه په الهي علم کې موجوده وه، چې تا ته به مهلت درکړی شي، کله چې د الله تعالی حکمت مقتضي شو چې خپل کمالي صفات او مالک الملکوتي (شهنشاهي) عظمت او جبروت ښکاره کړي؛ نو دغه عالم يې پيدا کړ: ﴿اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا﴾ (۲۸ جزء د الطلاق سورت (۱۲) آيت (۲) رکوع).

يعنې د ځمکې او آسمان تخليق او د دغو ګردو (ټولو) له نظم او نسق څخه دغه مقصود دی ،چې د الله تعالی کامل قدرت او د محيط علم او د نورو صفاتو معرفت خلقو ته حاصل شي، هم دغه الهي معرفت دی چې: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ﴾ له آيت څخه د ځينو اسلافو د تفسير سره سم په عبادت تعبير کړی شوی دی، او ښکاره ده چې د عالم د تخليق دغه غرض هلته په ډېر کامله وجه سره پوره کېدی شي، چې په عالم کې مطيع او وفادار، باغي او مجرم هر قسم مخلوقات موجود وي، او هم «اعداء الله» پوره زور او قدرت ولري، او د دوی د فطري اختيار او قوت د ګردو (ټولو) وسائلو په استعمال کې تر آخره حده پورې خپلواک (خپل اختيار) وي، او کافي مهلت او آزادي هم ولري، او د کار په اختتام کې د الله تعالی لښکر غالب او بريالی (با مراده) شي، او دښمن پخپلې سزا او هيداد ورسيږي، او له امتحانه وروسته آخرنی بری او کاميابي د الله تعالی د دوستانو په برخه شي، نو خير او شر او د خير او شر د منبع پيدا کول پر همدغه حکمت بنا دي، چې د عالم د تخليق غرض يعنې د کمالي صفاتو اظهار او هغه بې له دغه له سره نشي

پوره کېدی: ﴿وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ ۝١١٨ إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ﴾ (۱۲ جزء د هود سورت (۱۱۸) (۱۱۹) آیت، (۱۰) رکوع).

نو ځکه ضروري شوه چې لوی دښمن لعین ابلیس ته (چې د شرونو منبع دی) پوره مهلت ورکړ شي، چې د قیامت تر ورځې پورې خپلې ګردې (ټولې) قواوې او وسیلې همغسې یې چې زړه غواړي؛ استعمال کړي، لیکن دا خبره ښکاره ده، چې په سمه لاره او مستقیم ډول د هغه قادر مطلق او محیط کل مقابله ممکنه نه وه.

قَالَ فَبِمَآ أَغْوَيْتَنِى لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَٰطَكَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ۝١٦

وویل (ابلیس) نو قسم دی په سبب د ګمراه کولو ستا ما لره (په سبب د آدم) چې خامخا به کینم زه هرومرو (خامخا) دوی ته (یعنې انسانانو ته د ښویولو لامله) په لاره ستا کې (اسلام) چې سمه صافه ده.

تفسیر: یعنې د غلو په شان به د دوی په ایمان باندې داړې غورځوم، ځکه چې د دوی لامله (له وجې) زه دغې بدې ورځې سره مخامخ شوی یم.

ثُمَّ لَءَاتِيَنَّهُم مِّنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَٰنِهِمْ وَعَن شَمَآئِلِهِمْ ۖ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَٰكِرِينَ ۝١٧

بیا خامخا راځم هرومرو دوی ته (په هر وخت) له وړاندې د دوی، او له وروسته د دوی او له ښیو (طرفو) د دوی، او له کینو (طرفو) ددوی، او نه به مومې ته اکثر د دوی شکر ایستونکي (مؤمنان).

تفسیر: یعنې له هر لوري به پر دوی باندې یرغلونه (حملې) کوم، د څلورو جهاتو ذکر د جهاتو د تعمیم په لوري اشاره ده.

﴿وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَٰكِرِينَ﴾ «او نه به مومې ته اکثر د دوی شکر ایستونکي مؤمنان دا د لعین ابلیس اټکل او تخمین وو چې سم وخوت، ﴿وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُۥ فَٱتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾ (۲۲ جزء، د سبأ سورت (۲۰) آیت (۲) رکوع).

قَالَ ٱخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُومًا مَّدْحُورًا ۖ لَّمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمْ أَجْمَعِينَ ۝١٨

وویل (الله: ای ابلیسه) ووځه له دې ځایه په دغسې حال کې چې بد حال غمجن کړی شوی مردود رټلی شوی (لرې کړی شوی یې له رحمته)، (قسم دی) خامخا هر څوک چې متابعت وکړي ستا له دغو (انسانانو) خامخا ډک به کړم هرو مرو (خامخا) جهنم (دوزخ) له تاسې (له تابعانو ستا او له تا له) ټولو.

وَيَٰٓـَٔادَمُ ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ فَكُلَا مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝١٩

او (وویل الله) ای آدمه ! اوسه ته او (اوسې دي) ښځه ستا (حواء) په جنت کې، نو خورئ تاسې دواړه له هر ځایه (او هر شي ځنې) چې خوښه مو وشي، او مه نژدې کېږئ تاسې دواړه دې ونې ته (په قصد د خوراک، او که له دې جنسه وخورئ)؛ نو شئ به تاسې دواړه له ظالمانو (پخپلو ځانونو).

تفسیر: یعنې آدم علیه السلام او حوّاء رضي الله تعالی عنها ته اجازه وه چې بې له هیڅ ممانعته هر څه چې د دوی زړونه غواړي ودې خوري، او ودې چښي، پرته له یوې معینې ونې څخه چې د هغې خواړه د جنتي ژوندون او استعداد سره مناسب نه وو، نو ځکه یې وویل چې: هغې ته مه نژدې کېږئ ! که نه نقصان به در ورسیږي.

ځما په فکر کې دلته د ﴿فَتَكُونَا مِنَ الظَّٰلِمِينَ﴾ ترجمه داسې وکړه شي، ډېر به ښه او موزونه وي: «بيا به شئ تاسې له زيان موندونکو ځنې»، ځکه چې «ظلم» د نقصان، زيان، کمي او لنډون په معنى هم راځي، لکه ﴿وَلَمْ تَظْلِم مِّنْهُ شَيْـًٔا﴾ (١٥ جزء د الكهف سورت په (٣٣) آيت (٥) رکوع کې په همدې معنى راغلى دى.

فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطَٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنْهُمَا مِن سَوْءَٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَىٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هَٰذِهِ الشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونَا مِنَ الْخَٰلِدِينَ ﴿٢٠﴾ وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّى لَكُمَا لَمِنَ النَّٰصِحِينَ ﴿٢١﴾ فَدَلَّىٰهُمَا بِغُرُورٍ ۚ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ الْجَنَّةِ ۚ وَنَادَىٰهُمَا رَبُّهُمَآ أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَن تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَآ إِنَّ الشَّيْطَٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٢٢﴾

نو وسوسه واچوله دوى دواړو ته شيطان لپاره د دې چې ښکاره کړي دوى دواړو ته هغه چې پټ کړى شوي دي له دې دواړو ځنې له غليظه وو عورتونو د دوى، او وويل (ابليس دوى ته): نه يئ منع کړي تاسې رب ستاسې له (خوراک) د دې ونې ځنې؛ مګر له دې جهته چې نه شئ تاسې دواړه پرښتې (په مرتبه يا په ښايست يا په بې پروايى له خوراکه)، يا چې نشئ تاسې له تل پاتېکېدونکو (په جنت کې). او سخت قسم يې وکړ دوى ته (په نامه د الله) چې بېشکه زه تاسې دواړو ته خامخا له (دوستانو) نصيحت کوونکو ځخه يم. پس راکوز کړل (ابليس) دوى دواړه په فرېب (او په وسوسه په دې دروغ قسم سره)، نو کله چې وځکله دغو (دواړو مېوه د دغې ممنوعې) ونې؛ (نو) ښکاره شو دواړو ته غليظه عورتونه د دوى، او ولګېدل دواړه چې سره نښلولې دوى پر عورتونو خپلو باندې له پاڼو (د ونو) د جنت ځخه (چې پټ کړي ځان خپل)، او نداء (غږ) وکړ دوى ته رب د دوى (داسې) چې آيا ما نه وئ منع کړي تاسې له (خوراکه د) دغې ونې ځخه، او (نه وو) ويلي ما تاسې ته (چې پام وکړئ پوه شئ) چې بېشکه شيطان تاسې دواړو ته دښمن دى ښکاره؟ ! (بلکه منع کړي مو وئ، او ويلي مو وو تاسې ته).

تفسير: ﴿فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ﴾ الآيه ـ «نو کله چې وځکله دغو دواړو ميوه د دغې ممنوعې ونې؛ نو ښکاره شول دواړو ته غليظه عورتونه د دوى»، يعنې د حکم له عُدول ځخه جنتي لباس له دوى ځخه وويستل شو، ځکه چې جنتي لباس په حقيقت کې د ﴿وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ﴾ يو محسوس صورت وو، نو د کوم ممنوع له ارتکابه په هره اندازه چې ﴿وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ﴾ ځيرې شوى وي؛ په همغه اندازه به جنتي له لباسه بې برخې کيږي.

الغرض شيطان کوښښ وکړ چې آدم عليه السلام نافرمانى ته واړوي، او په عصيان کې يې اخته او مبتلا کړي، چې د جنت فاخره خلعت د مجازاتو په طريقه ترې وايستل شي.

د ﴿سَوْءَةَ﴾ په لغوي معنى ګانو کې ډېر وسعت شته، د قابيل او هابيل په قصه کې يې ﴿سَوْءَةَ أَخِيهِ﴾ فرمايلي دي، په حديث کې «إحدى سوأتك يا مقداد» راغلي دي.

﴿وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ الْجَنَّةِ﴾: «او ولګېدل دغه دواړه چې سره نښلول يې پر غليظو عورتونو خپلو باندې له پاڼو د ونو د جنت ځخه چې پټ کړي ځان خپل»، يعنې بربنډ شول او له ډېر شرم او حيا يې په پاڼو سره خپل بدن پټولو، له دې نه معلوميږي: اګر که د انسان د پيدا کېدلو په وخت کې لوڅ لغړ وي، مګر فطري حيا د دې خبرې مانع ده، چې همغسې لوڅ پوڅ پاتې شي.

قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٢٣﴾ قَالَ اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٢٤﴾

نو وويل دواړو (يعني آدم او حواء): اى ربه ځمونږ ! ظلم کړى دى مونږ پر نفسونو (ځانونو) خپلو، او که مغفرت ونه کړې ته او رحمت (مهرباني) ونه کړې ته پر مونږ؛ نو خامخا شو به مونږ هرومرو (خامخا) له زيانکارانو. وفرمايل (الله) چې کوز شئ (له جنته) حال دا چې ځينې ستاسې ځينو نورو ته به دښمن يئ، او (مقرر دى) تاسې ته په ځمکه کې ځاى د هستوګنې او (اسباب) د نفع آخيستلو تر وخته (د مړ ک) پورې.

تفسير: د مفسرينو په نزد دا خطاب آدم او حواء عليهما السلام او لعين ابليس ګردو (ټولو) ته دى، ځکه اصلي عداوت آدم او ابليس سره لري، او د دوى د عداوت ډګر ځمونږ دغه ځمکه ګرځولې شوې ده، چې خلافت يې آدم عليه السلام ته سپارلى شوى وو.

قَالَ فِيهَا تَحْيَوْنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ ﴿٢٥﴾

وفرمايل (الله) چې په دې ځمکه کې به ژوندون کوئ تاسې او په همدغې ځمکې کې به مرئ تاسې (او خښېږئ)، او له همدغې ځمکې څخه به را ايستل کېږئ تاسې (په قيامت کې جزا ته).

تفسير: يعني عموماً ستاسې اصلي او معتاد مسکن همدغه ځمکه ده، که د خرق عادت په ډول کوم يو کله تر يوې معيّنې مودې له دې ځايه پورته کړى شي، لکه مسيح عليه السلام نو هغه له دغه آيت سره منافي نه دى، آيا کوم سړى د څو ورځو يا ګړيو له مخې له ځمکې څخه جلا (جدا) او په کومه الوتکه کې مسافرت وکړي، يا هملته مړ شي، نو آيا هغه به د ﴿فِيهَا تَحْيَوْنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ﴾ څخه مخالف وي؟ ځکه چې دى په دغه وخت کې پر ځمکه نه دى، په بل ځاى کې داسې ارشاد دى، چې ﴿مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ﴾ نو هغه سړى چې په ځمکه کې مړ او په ځمکې کې خښ نشي، هغوى به څرنګه په ﴿وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ﴾ کې داخل شي؟ معلومه شوه چې داسې قسم قضايا د کليې په ډول نه دي استعمال شوي.

يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْآتِكُمْ وَرِيشًا ۖ وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ خَيْرٌ ۚ ذَٰلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿٢٦﴾

اى ځامنو د آدم ! په تحقيق نازل کړى (لېږلى) دى مونږ پر تاسې لباس (کالي) چې پټوي عورتونه ستاسې، او (درليږلى مو دى لباس د ښايست او) د زينت کالي، او لباس (کالي) د تقوى (چې خلاصې پرې راځي له عذابه) دغه (لباس د تقوى) خير (بهتر، ډېر غوره) دى (له نورو)، دغه «رالېږل د پوښاک) له آيتونو (علامو د رحمت فضل قدرت) د الله دى لپاره د دې چې دوى پند واخلي (غور وکړي، او قدر د دې نعمت وپېژني).

تفسير: له ﴿أَنزَلْنَا﴾ ځنې مراد د مادې او نورو پيدا کېدل او د هغې د جوړولو د تدبير ښوول دي، اګر که د ﴿أَنزَلْنَا﴾ لفظ ډېر ځلې په داسې ځايونو کې ويل کېږي؛ چې يو شى له پاسه ښکته خوا ته لېږل يا راوړل کېږي، مګر ډېر ځلې له هغه ځنې دغه مکاني فوق او تحت نه وي مراد، بلکه هغه مرادېږي چې د مرتبې په اعتبار پورته وي، او په هغه شي چې د هغه له خوا ښکته کسانو ته ورکول کېږي؛ د همدغه لفظ اطلاق کاوه شي، لکه چې فرمايلي يې دي: ﴿وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ الْأَنْعَامِ ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ﴾ يا ﴿وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ﴾.

﴿وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ خَيْرٌ﴾: «او کالي د تقوی چې دي؛ دغه لباس التقوی ډېر غوره دی له نورو»، يعنې برسېره په دې ظاهري لباس چې په هغه سره د بدن ستر او زينت حاصليږي، او ځان پرې پټيږي، او ډول او سينګار پرې کيږي؛ يو معنوي لباس هم شته، چې عظيم الشأن قرآن يې ﴿وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ﴾ بولي، او د باطني زينت او ښايست وسيله ګرځي، او په هغه سره د انسان هغه باطني کمزوري د ظهور او فعليت درجه نه مومي، چې په ده کې يې استعداد شته، او د خفاء په پرده کې ده، او د ظهور او فعليت په ډګر کې نشي راتلی، او هم دغه معنوي لباس دی چې قرآن کريم په ﴿وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ﴾ سره ياد کړی دی، او د باطني زينت، ښايست او سينګار ذريعه ګرځي، بلکه که غور وکړی شي؛ نو ظاهري بدني لباس هم د همدې باطني لباس د تأمين، تطهير او تنظيف لپاره شرعا مطلوب دی.

﴿ذَٰلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ﴾ «دغه رالېږل د پوښاک له آيتونو علامو د فضل، رحمت، او قدرت د الله دي لپاره د دې چې دوی پند واخلي، غور وکړي، او قدر د دې نعمت وپېژني، او پرهېز وکړي، له صوري او معنوي بربنډوالي ځخه»، يعنې پر دغو دلائلو غور وکړئ ! او د الله تعالى د قوت او قدرت په انعام او اکرام باندې معترف او شکر ګذار اوسئ.

يَا بَنِي آدَمَ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ كَمَا أَخْرَجَ أَبَوَيْكُم مِّنَ الْجَنَّةِ يَنزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْآتِهِمَا ۗ إِنَّهُ يَرَاكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ۗ إِنَّا جَعَلْنَا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٧﴾

ای ځامنو د آدم ! فرېب در نکړي تاسې ته شيطان لکه چې ايستلي يې دي مور او پلار ستاسې له جنته (په فرېب سره) په دې حال چې ايسته يې له دې دواړو لباس د دوی، لپاره د دې چې وښيي دوی ته غليظه عورتونه د دوی، بېشکه دغه «شيطان» وينې تاسې (هم پخپله) دی او (هم قوم) لښکر د ده له هغې خوا چې نه يې وينئ تاسې، بېشکه مونږ ګرځولي مو دي شيطانان دوستان لپاره د هغو کسانو چې ايمان نه راوړي دوی.

تفسير: دا خراج او نزع اضافت د سبب په لوري شوی دی، يعنې له جنت ځنې د آدم او حواء عليهما السلام د بېلېدو او د دوی نه د لباس ايستلو سبب همدا شيطان شو، نو هوښيار اوسئ چې اوس تاسې تېر نه باسي ! او د ده له مکرونو ځخه تل خبردار اوسئ !.

يعنې هغه دښمن چې مونږ ته له داسې پټوني ځخه ګوري، چې مونږ يې له سره نه وينو؛ نو د هغه حمله سخته خطرناکه او مدافعه يې ډېره ګرانه ده، نو ځکه تاسې ته ښايي چې تل مستعد او بيدار اوسئ !، د داسې دښمن علاج دا دی، چې مونږ د داسې يوه ذات په پناه کې ځای ونيسو، چې دی هغه وينې، او هغه دی نشي ليدی: ﴿لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ ۖ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾.

تنبيه: د ﴿إِنَّهُ يَرَاكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ﴾: قضيه مطلقه ده، دائمه نه ده، يعنې ډېر ځلې داسې وي چې مونږ دوی نشو ليدلی، او دوی مونږ ته ګوري، له دې وينا ځنې دا خبره نه لازميږي؛ چې په هيڅ وخت کې به هيڅوک او په هيڅ صورت سره وی نشي ليدلی، نو په دغه آيت سره د جنّ له رؤيته په کلي نفي باندې استدلال کول؛ قصور او لنډ ليدل دي.

﴿إِنَّا جَعَلْنَا الشَّيَاطِينَ﴾ الآيه ـ «بېشکه مونږ ګرځولي مو دي شيطانان دوستان لپاره د هغو کسانو چې ايمان نه راوړي»، يعنې کله چې دوی له خپلې بې ايمانۍ د شيطانانو رفاقت خپلو ځانونو ته غوره کړ، لکه چې وروسته له دې چې راځي: ﴿إِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ اللَّهِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ﴾ ؛ نو مونږ هم په دغه انتخاب کې هيڅ مزاحمت ونه کړ، او هر چا چې دوی د خپل ځان ملګري ګرځولي وو؛ همغه ور ملګري کړل شول.

وَإِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً قَالُوا وَجَدْنَا عَلَيْهَا آبَاءَنَا وَاللَّهُ أَمَرَنَا بِهَا ۗ قُلْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ ۖ أَتَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾

او کله چې وکړي دوی کومه فاحشه (ناکاره کار لکه شرک) نو وایي دوی موندلي دي مونږ په دغه (ناکاره کار) پلرونه خپل او الله هم امر (حکم) کړی دی مونږ ته په (کولو د) دې سره، ووایه (ای محمده ! دوی ته) چې بېشکه الله نه کوي امر (حکم) په فحشاء (ناکاره کارونو)، آیا وایئ (دروغ تړئ) تاسې پر الله باندې هغه شی چې نه پوهېږئ (پرې) تاسې.

تفسیر: یعنې خراب او د بېحیایی کار، لکه د نارینه او ښځې بربنډ طواف کول چې د دې آیتونو شان نزول دی، او له هغه څخه سلیم عقل او صحیحه فطرت نفرت کوي (د الله قدّوس) له شانه دا تصور ډېر لرې دی، چې د داسې شیانو تعلیم ورکړي، د ده پاک ذات د پاکی او حیا منبع او سرچینه ده، دی به د ګندګی، چټلی، او بېحیایی د کارونو حکم څرنګه ورکوي؟.

أصلاً د بېحیایی او بدکاری معلمان هغه شیطانان دي؛ چې دوی د خپلو ځانونو رفیقان ګرځولي دي، وګورئ له ګردو څخه پخوا ستاسې مور او پلار د همدغه شیطان له لوري تېروتل، او لوڅ لغړ وګرځېدل، مګر هغوی د شرم او حیاء لامله د ونو پانې پر خپلو ځانونو باندې تپلې، نو څرګنده شوه چې بربنډتیا د شیطان له خوا، او د تستر (د ځان پټولو) کوښښ ستاسې د پلار له خوا شوی دی، بیا په بربنډ طواف کولو کې د خپلو پلرونو سند وړاندې کول څرنګه صحیح کېدی شي.

قُلْ أَمَرَ رَبِّي بِالْقِسْطِ ۖ وَأَقِيمُوا وُجُوهَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ۚ كَمَا بَدَأَكُمْ تَعُودُونَ ﴿٢٩﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) امر (حکم) کړی دی رب ځما په قسط (عدل، انصاف) سره (چې توحید او ښه کارونه دي، نه په افراط نه په تفریط) او (بل الله حکم کړی دی) چې سم واړوئ (برابر کړئ) تاسې مخونه خپل (عبادت د الله ته) په نزد (د وخت) د هر لمانځه، او بولئ (عبادت کوئ) تاسې د ده حال دا چې مطیع خالص کوونکي اوسئ ده ته دین (خپل له عُجب او ریا او هر نقصان څخه)، لکه چې اول ځلې یې پیدا کړي یئ تاسې (له نشت نه) بیا به هم داسې پیدا شئ تاسې (پس له مرګه).

تفسیر: په «روح المعاني» کې «القسط على ما قال غير واحد: العدل، وهو الوسط من كل شيء ـ المتجافي عن طرفي الإفراط والتفريط»، د آیت حاصل داسې شو چې: الله تعالی په هر کار کې پر توسط او اعتدال د پاتې کېدلو، او له افراط او تفریط څخه د ځان ژغورلو (بچ کول) هدایت کوي، نو بیا به په څه شان سره د فواحشو او رذائلو حکم ورکوي؟».

غالبا محقق شیخ الهند «رحمه الله» «مسجد» میمي مصدر ګڼلی او د (سجود) معنی یې ترې اخیستې ده، تجوّزا یې په لمانځه سره ترجمه کړی دی، او «وجوه» یې په خپلې ظاهري معنی پریښی دی، یعنې د لمانځه د اداء کولو په وخت کې خپل مخونه سم د کعبې شریفې په لوري وګرځوئ.

مګر ځینې نور مفسرین له ﴿وَأَقِيمُوا وُجُوهَكُمْ﴾ څخه داسې مطلب اخلي، چې د الله تعالی د عبادت په لوري تل په استقامت او له زړه متوجه اوسئ، د ابن کثیر «رحمه الله» په نزد د دې مطلب دا دی چې: «پخپلو عبادتونو سم او مستقیم اوسئ ! او له هغې سمې لارې ځنې چې د محمد «علیه الصلاة والسلام» ده؛ مه کږېږئ !.

د عبادت مقبوليت پر دوه شيانو موقوف دی: (١) چې خالص د الله تعالى لپاره وي، چې وروسته يې په ﴿وَٱدْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ﴾ سره يادونه کوي. (٢) چې له هغې مشروعې طريقې سره موافقه وي، چې انبياء او مرسلين عليهم السلام تجويز کړېده، او دلته هغه په ﴿وَأَقِيمُوا۟ وُجُوهَكُمْ﴾ سره ادا کړی شوې ده، په هر حال په دغه آيت کې د شرعي أحکامو د کردو (ټولو) هغو أنواعو په لوري اشاره کړی شوې ده، چې د بندګانو له معاملاتو سره متعلق دي، او هغه ټول تر «قسط» لاندې راغلل، او هغه شيان چې په الله تعالى پورې تعلق لري، که «بدني» وي نو په ﴿وَأَقِيمُوا۟ وُجُوهَكُمْ﴾ کې، که «قلبي» وي نو په ﴿وَٱدْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ﴾ کې مندرج دي.

﴿كَمَا بَدَأَكُمْ تَعُودُونَ﴾: يعنې لکه چې په اول کې الله جل جلاله ستاسې له پيدا کولو څخه عاجز نه وو، همداسې ستاسې له اعادې او بيا ژوندي کولو څخه هم عاجز نه دی، او انسان د استقامت او اخلاص او اعتدال پر لارې تللو ته د دې لامله (له وجې) اړتيا (احتياج) او ضرورت لري، چې وروسته له مړګه بل ژوندون راتلونکی دی، چې په هغه کې د دې موجوده حيات نتائج ور وړاندې کيږي، نو ښايي د هغه «بعث بعد الموت» فکر لا له اوسه وکړی شي! ﴿وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ﴾.

فَرِيقًا هَدَىٰ وَفَرِيقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلضَّلَٰلَةُ ۗ إِنَّهُمُ ٱتَّخَذُوا۟ ٱلشَّيَٰطِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٣٠﴾

يوې ډلې ته هدايت وکړ (الله په توفيق د ايمان سره او) هدايت يې نه دی کړی بلې ډلې ته چې مقرره شوې ده پر دوی ګمراهي، بېشکه چې دوی نيولي دي شيطانان دوستان (خپل معبودان) بې له الله ځنې او ګمان کوي دوی چې بېشکه هم دوی هدايت موندونکي دي (سمې صافې لارې ته او واقع کې داسې نه ده).

تفسير: يعنې پر هغو باندې چې ګمراهي مقرره شوې ده، هغوی هغه خلق دي چې پاک الله يې پرې اينبی، او شيطان يې خپل دوست او رفيق ګرځولی دی، چې د ده په خوله اعتماد او باور کوي، او خبرو ته يې غوږ ږدي، او د تعجب ځای دا دی، چې سره د دې صريحې ګمراهۍ دوی داسې ګومان کوي، چې مونږ پر سمې صافې لارې باندې روان يو، او له مذهبي حيثيته کومه د عمل رويه چې مونږ اختيار کړېده؛ هغه ډېره مناسبه او درسته ده، لکه چې په بل ځای کې يې فرمايلي دي: ﴿ٱلَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا ﴿١٠٤﴾﴾ (١۶ جزء د الکهف سورت (١٠۴) آيت (١٢) رکوع).

تنبيه: د دې آيت له عمومه ظاهره شوه چې د «معاند کافر» په شان «مخطي کافر» هم چې د خپلې واقعي غلطۍ لامله (له وجې) باطل حق ګڼي؛ په ﴿وَفَرِيقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلضَّلَٰلَةُ﴾ کې داخل دي، که دغه غلط فهمي د پوره فکر او غور نه کولو له وجې وي، يا له دې سببه وي، چې اګر که ده په ښکاره سره خپل پوره قوت، غور، او فکر چلولی دی، خو په مقصد نه دي رسيدلي، ځکه چې پر داسې صريحو حقائقو او واضحو دلائلو د فکر د نه رسېدلو ځنې دغه خبره څرګنده ده، چې ده في الحقيقت په استدلال او د خپل فکر په کار اچولو او استعمال کې تقصير کړی دی، ګواکې هغه شيان چې پرې ايمان راوړل د نجات مدار دی؛ دومره روښانه او واضحه دی، چې له هغو څخه انکار غير له عناده او د فکر او تأمل له قصوره بل هيڅ شی نه دی، په هر حال شرعي کفر داسې زهر دي؛ چې که په قصد يا په سهوه په هر ډول سره چې وخوړل شي، د انسان د وژلو لپاره کافي دي، ځمونږ د «اهل السنت والجماعت» مذهب همدا دی.

يٰبَنِيٓ اٰدَمَ خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَّكُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿٣١﴾

ای ځامنو د آدمه ! واخلئ تاسې زینت (ښایست) خپل په نزد (د وخت) د هر لمانځه (په اغوستلو د پاکو کالیو (جامو) او د عورت ستر) او خورئ او څښئ او اسراف (بې ځایه خرڅ) مه کوئ تاسې، بېشکه چې الله نه خوښوي مسرفان (بې ځایه خرڅ کوونکي).

تفسیر: دغه آیتونه د هغو کسانو په رد کې نازل شوي دي، چې د کعبې شریفې طواف به یې په بربنډه کولو، او هغه یې لوی قربت، ثواب، او پرهېزګاري ګڼله، او د اهل جاهلیت ځینو کسانو د حج په ورځو کې د سدّ رمق ځنې زیات شی نه خوړ، او د غوړیو او نورو دسوماتو استعمال به یې پرېښوده، ځینو به د وزې له غوښې او شودو له استعماله ځان ساته، نو دغه ګرد شیان یې راوښوده چې دا شیان له سره د نېکۍ او تقوی خبرې نه دي، د الله جل جلاله ورکړی شوی لباس (چې په هغه سره ستاسې د بدن تستّر (پټول) او تزیّن (ښایست) په عمل راځي، د عبادت په وخت کې د نورو وختونو په نسبت لا زیات قابل الاستعمال دی، تر څو بنده د خپل الله جل جلاله په دربار کې د ده د ګردو نعمتونو له اثر او ننبو سره حاضر شي، او هر هغه شیان چې الله تعالی د خوراک او پوښاک لپاره درکړي دي، له هغو ځنې متمتع شئ ! په دې شرط سره چې اسراف په کې ونه کړئ !.

د اسراف معنی له حده تجاوز، او له مېچه تېرېدل دي، او هغه دوه ډوله دی: لکه چې حلال حرام وګڼي، یا له حلالو تېر له حرامو هم متمتع شي، یا په خوړلو او چښلو کې له حرص او بې تمیزۍ څخه کار واخلي، او له اندازې یې زیات وخوري، یا یې بې له اشتهاء وخوري، یا یې نا وخته وخوري، یا دومره لږ وخوري چې د جسماني صحت او قوت عمل لپاره کافي نه وي، یا د صحت مضر شیان استعمال کړي، او غیر ذلک.

د اسراف لفظ دغو ګردو امور لره شاملېدی شي، بیځایه خرڅونه هم په اسراف کې شامل دي، د همدې تعمیم په لحاظ ځینو اسلافو فرمایلي دي: (جمع الله الطبّ کله في نصف آیة) الله تعالی ګرد (ټول) طب په نیم آیت کې سره ټول کړی دی).

قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللّٰهِ الَّتِيْٓ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزْقِ ۭ قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٣٢﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) چې چا حرام کړی دی زینت د الله؛ هغه چې ایستلی یې دی لپاره د بندګانو خپلو؟ او (چا حرام کړي دي) پاک لذیذ شیان له رزقه ځنې (چې د خوړلو او څښلو دي؟ یعنې دا یو هم نه دی حرام)، ووایه (ای محمده ! دوی ته) چې دغه (زینت او طیبات او نور نعمتونه اصلا) لپاره د هغو کسانو دي چې ایمان یې راوړی دی (او تبعاً دی کفارو ته) په دې ژوندون لږ خسیس کې، حال دا چې خاص (مؤمنانو لره) دی په ورځ د قیامت کې، همدارنګه (لکه دا پاس تفصیل) په تفصیل بیانوو مونږ آیتونه لپاره د (هغه) قوم چې پوهیږي (پرې).

تفسیر: یعنې ای محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ! ته دوی ته ووایه چې چا حرام کړی دی هغه زینت د الله جل جلاله چې له جامو وي، که له نورو وي، چې ایستلی دی الله تعالی لپاره د بندګانو خپلو له نباتاتو لکه پنبه او کتان، او له حیواناتو لکه وربښم یا وړی، او له کانونو لکه ځغره، او بل پاکیزه شیان له اقسامو د روزي، که د خوارک وي: لکه غوښې، وازدې، غلې، دانې، یا د څښلو (څکلو) وي: لکه اوبه، شوده، یعنې دا یو هم نه دی حرام.

ووايه ای ځما رسوله ! دغو ته چې دغه زينت او طيبات او نور نعمتونه خاص لپاره د مؤمنانو دي، يعنې هم دوی ته پيدا شوي دي، اما په دنيا کې کفار هم تبعاً ورسره شريک دي، ولې دائمې او ابدي نعمتونه خاص مؤمنانو ته دي بې شريکه په عقبا کې، همداسې چې مونږ دغه مفصل حکم بيان کړ، مفصل بيانوو باقي ټول احکام د دين بالخاصه د حلال او حرام احکام، لپاره د هغه قوم چې پوهيږي او فهمولی شي.

د دنيا ګرد شيان ځکه پيدا شوي دي، چې انسانان له هغو ځخه په شرعي او په مناسبه طريقه ګټه واخلي، او د خالق تعالی جل وعلا شأنه په عبادت او وفاداری او شکر ګذاری کې مشغول اوسي، په دغه اعتبار د دنيا ټول نعمتونه اصلا د مؤمنانو او مطيعانو د استفادې لپاره پيدا شوي دي.

هو ! کافران هم د دغو شيانو له استعمال ځخه نه دي ممنوع شوي، دوی هم د خپلو دنيوي اعمالو او تدابيرو په اثر له هغو ځنې مفاد حاصلولی شي، بلکه څه وخت چې د ايمان خاوندان په ايماني قوت اوتقوی کې کمزوري شي، نو دغه غاصبان په خپلو عملي هلو ځلو کې ظاهراً ډېر بريالي او کامياب په نظر راځي، چې ځينې له هغو ځنې دې د کفارو د فاني اعمالو ثمر وګڼله شي.

قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَنْ تُشْرِكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٣﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) بېشکه همدا خبره ده، چې حرام کړي دي رب ځما فواحش (کبيره ګناهونه چې موجب د لوي عذاب دي) هغه چې ظاهر وي له هغو ځخه، او هغه چې باطن وي، (او حرامه کړې يې ده) ګناه (صغيره چې حد نه لري)، او (حرام کړی يې دی) ظلم په ناحقه سره، (بل دا چې) شريک ونيسئ تاسې په الله پورې هغه شی چې نه دی نازل کړی (لېږلی الله) په (شريکولو د) هغه باندې هيڅ برهان (علمي سند)، او (بل دا يې حرام کړی دی چې) ووايئ تاسې پر الله هغه خبرې چې تاسې نه پوهيږئ (پرې).

تفسير: له «اثم» ځنې عامه ګناه مراده ده، او ځينې مخصوصې ګناوې د دې مقام په مناسبت يا د اهميت له سببه بيان فرمايلې شوي دي، او د ځينو په نزد (اثم) هغه ګناه ده؛ چې د هغې تعلق د ګناه کوونکو ځخه ما سوا نورو سره نه وي، والله أعلم.

دروغ ترل په الله جل جلاله دا دي؛ چې په تحليل او تحريم او په الحاد د صفات الله او نورو کې داسې خبرې له خپله ځانه جوړې کړي؛ چې بيخي شرعي اساس ونه لري، او بيا د هغو نسبت الله تعالی ته وکړي، لکه چې د فحشاوو په متعلق به کفارو ويل: ﴿وَاللَّهُ أَمَرَنَا بِهَا﴾.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٤﴾

او هر يوه امت ته يو اجل (نېټه) شته (د مرګ يا د عذاب که ايمان رانه وړي)، نو کله چې راشي اجل (نېټه) د دوی؛ نه به وروستي کيږي دوی (ترې) يو ساعت، او نه ړومبی کيږي دوی (ترې).

تفسير: په ظاهره سره دا شبهه کيږي، کله چې د وعدې وخت ورسيږي، نو تأخير يې عقلاً ممکن وو، نو ځکه د هغه نفی ضروري شوه، مګر تقديم يې خو عقلاً هم ممکن نه دی، نو د هغه له نفي ځخه څه فائده ده؟.

د دې شبهې له سببه مفسّرينو ﴿وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ﴾ عطف په ﴿فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ﴾ منلی دی، او ځينې د ﴿فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ﴾ ځخه (قرب) او نژدېوالی مرادوي.

ځما په نزد دغو تکلفاتو ته هیڅ حاجت نشته، په عمومي محاوراتو کې د یوه شي د تاکید ثبوت او قوت لپاره چې په مقابل کې یې دوه خواوې وي؛ ډېر ځله د هغې خوا نفي خو مقصوداً کیږي، چې محتمل الثبوت وي، او د بلې خوا نفي چې لا له پخوا غیر محتمل وي، یوائې د مبالغې، تأکید او تحسین الکلام په ډول استطرادا ذکر کیږي.

لکه چې یو خریدار له دکاندار ځنې د یوه شي قیمت د معلومولو لپاره پخپلو خبرو کې وایي: چې د هغه شي په قیمت کې هیڅ زیادت او کمی او لاندې او باندې نشته؟ او هم دغه یې قیمت دی، دکاندار ورته وایي: هو ! خانه !، په دغه ویلي شوي قیمت کې هیڅ زیادت او کمی او لاندې او باندې نشته ! او همدغه قیمت یې واجبي او ټاکلی (مقرر) شوی دی، په دغو دواړو محاورو کې مقصود بالذات (کمی) دی، مګر د (زیادت) لفظ یوائې د قیمت د تعیین او تاکید او مبالغې لپاره استطراداً ذکر کړی شوی دی.

دلته هم د دې کلام څخه اصلي غرض همدا دی، چې د الله تعالی وعده هر کله چې ورسیږي، بیا په کې تأخیر نشته، او له سره وروسته کېدونکې نه ده، او یوه شېبه هم په هغه کې د تقدیم او تأخیر امکان واقع کېدونکی نه دی، دلته د «تأخیر» نفي مقصود ده، ځکه چې «تقدیم» لا له پخوا څخه ظاهرُ الانتفاء وو.

هغه انتفاء یوائې د وعدې په ټینګوالي د زور اچولو یو اسلوب دی، یعنې پر الله دروغ ترونکی او د هغه د لوري د حرامو حلال کوونکی او نور متمردین دې د الله تعالی پر دغه تأخیر، مهلت او حلم نه مغروریږي، او نه دې بې فکره اوسي، ځکه چې د هر امت او د هر فرد لپاره د الله تعالی له جانبه یوه ټاکلې (مقرره) موده مقرره شوې ده، هر کله چې د دوی د سزا نېټه او وعده ورسیږي؛ نو بیا هغه خامخا اجرا کېدونکې ده، او له سره وړاندې وروسته کېدونکې نه ده.

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ إِمَّا يَأۡتِيَنَّكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَقُصُّونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِي فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصۡلَحَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ۝٣٥ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ عَنۡهَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ۝٣٦

ای ځامنو (اولاده) د آدم ! که راشي تاسې ته رسولان له تاسې ځنې، چې لولي دوی پر تاسې باندې آیتونه (د کتاب) ځما (یعنې شرعي احکام)؛ نو هر څوک چې ځان وساتي (له تکذیب څخه) او اصلاح (نېک) کړي (عمل خپل)؛ نو نه به وي هیڅ قسم وېره پر دوی باندې، او نه به دوی غمجن کیږي (په نقصان د جزا سره). او هغه کسان چې نسبت یې د دروغو کړی آیتونو ځمونږ ته او کبر (سرکشي کوي) له (قبلولو د) هغو آیتونو؛ همدغه کسان صاحبان (ملګري) د اور د (دوزخ) دي، همدوی به په دغه اور کې تل وي.

تفسیر: ابن جریر د أبو یسار سُلمي «رحمه الله» ځنې نقل کړي دي، چې دغه خطاب د ﴿يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ إِمَّا يَأۡتِيَنَّكُمۡ﴾ الآیه ـ ګردو (ټولو) بني آدمانو ته په عالم ارواح کې شوی دی، لکه چې د (اول جزء د البقرې سورت (۳۸) آیت (۴) رکوع) له سیاق څخه معلومیږي: ﴿قُلۡنَا ٱهۡبِطُواْ مِنۡهَا جَمِيعٗاۖ فَإِمَّا يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدٗى﴾

الآیه ـ او د ځینو محققینو په نزد «هر کله هر خطاب چې په هره زمانه کې هر قوم ته شوی دی، دا د هغو څخه حکایت دی»، یعنې که الله تعالی په کوم وخت کې له همدغه ستاسې ځنې کوم رسول مبعوث وفرمایي، چې د الله تعالی آیتونه تاسې ته آوروي، او په هغو سره تاسې ته ستاسې د پلار اصلي میراث (جنت) د حاصلولو ترغیب او تذکیر درکوي، او د حقیقي مالک د خوشالی لارې په کې درښکاره شوي دي؛ نو د هغه مرسته (مدد) او پیروي وکړئ ! او له الله تعالی ځنې وویرېږئ ! او ناکاره کارونه پرېږدئ ، او تري بېزاره شئ ! او صالحه اعمال اختیار کړئ !؛ نو ستاسې مستقبل به بېخي بېخوفه او بې خطره کیږي، او تاسې به داسې یو مقام ته ورسېږئ چې هلته به د عیش او عشرت، امن، سکون، او اطمینان څخه ما سوا بل هیڅ شی نه وي.

هو ! كه څمونو آيتونو ته تاسې د دروغو نسبت وكړ، او د تكبر او لوينې له مخو تاسې پرې عمل ونه كړ، او له هدايته ګوښې (بېل) پاتې شوئ؛ نو له اصلي مسكن او آبائي ميراث څخه به بې برخې كېږئ، او د دائمې محرومۍ او ابدي عذاب او هلاكت ځنې به ما سوا بل هيڅ شى ستاسې نه په برخه كيږي.

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ۚ أُولَٰئِكَ يَنَالُهُمْ نَصِيبُهُم مِّنَ الْكِتَابِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ قَالُوا أَيْنَ مَا كُنتُمْ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ ۖ قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا وَشَهِدُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُوا كَافِرِينَ ﴿٣٧﴾

نو څوك دي ډېر ظالم له هغه چا چې له ځانه ترې پر الله باندې دروغ (چې نښه، ځوى، لور او شريك لري) يا نسبت د دروغو كوي آيتونه د دغه (الله) ته (بلكه نشته بل ظالم)، دغه (مكذبان مفتريان پر الله) وبه رسيږي دوى ته برخه د دوى له هغه ليكل شوي (عمر، رزق، اجل او نور) څخه تر هغه پورې كله چې راشي دوى ته رسولان ځمونږ (ملك الموت او أعوان يې)، حال دا چې قبضوي دوى (ارواح د) هغوى وايي (دا ملائك دې كفارو ته د ملامتى په توګه): چېرته دي هغه (معبودان) چې وئ تاسې چې بلل به مو (عبادت به مو كاوه د هغوى) غير له الله (چې اوس دفع كړي عذاب له تاسې؟)، نو وبه وايي دغه (كافران): ورك شول له مونږ (او هيڅ نفعه مو ترې ونه مونده)، او شاهدي به وركړي دوى پر نفسونو (ځانونو) خپلو باندې چې بېشكه دوى وو كافران (په دنيا كې).

تفسير: ﴿أُولَٰئِكَ يَنَالُهُمْ﴾ الآيه ـ «دغه مكذبان او مفتريان پر الله؛ وبه رسيږي دوى ته برخه د دوى»، يعنې په دنيا كې عمر او رزق او نور هر څومره چې مقرر او مقدر دي، يا د دې ځاى ذلت او رسوايي چې د دوى لپاره ليكلې شوې ده، هغه ګرد دوى ته رسيدونكي دي، بيا وروسته له مرګه هغه معامله چې له دوى سره كېدونكې ده، د هغې ذكر وروسته له دې نه راځي، كه د ﴿نَصِيبُهُم مِّنَ الْكِتَابِ﴾ ځنې دنيوي عذاب نه، بلكه اخروي مراد واخيستل شي؛ نو د ﴿حَتَّىٰ إِذَا جَاءَتْهُمْ﴾ الآيه ـ څخه پر دې تنبيه كيږي، چې د هغه عذاب له مباديو سلسله د دغه دنيوي ژوندانه په آخري شېبو كې شروع كيږي.

﴿حَتَّىٰ إِذَا جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ﴾ الآيه ـ «تر هغه پورې چې راشي دوى ته رسولان ځمونږ چې قبضوي ارواح د دوى»، يعنې كله چې پرښتې په ډېره سختى د دوى روح قبضوي، او په بد صورت يې بيايي، نو دوى ته ويلې كيږى: چې پرته له الله تعالى ځنې هغه شيان چې تاسې بلل هغوى چېرې دي؟ چې اوس ستاسې په داد او فرياد نه درسيږي؟ او ستاسې خبر نه اخلي؟ هغوى در وبولئ ! چې تاسې له دې مصيبت څخه وژغوري (وساتي) ! په دې وخت كې به كفار اقرار كوي، او په دغه اقرار كولو به ارٍ (محتاج) كيږي، چې مونږ ډېره سخته غلطي كړې وه، چې مونږ داسې شيان خپل معبودان او مستعان تاكلي (مقرر) كړي وو، چې هغوى د دې كار وړ او مستحق نه وو، او نن ځمونږ په دغه مصيبت كې د هغوى هيڅ سراغ او پته نشته، خو دغه بې وخته اقرار او ندامت دوى ته هيڅ ګټه (فائده) او نفع نه رسوي، او پر دوى داسې حكم صادريږي، ﴿ادْخُلُوا فِي أُمَمٍ﴾ الآيه.

باقي هغه چې په نورو مواضعو كې راغلي دي، چې دوى به د خپل كفر او شرك څخه انكار كوي، د دې آيت سره منافي نه ده، ځكه چې د قيامت مواقف او احوال سره بېل بېل او جلا جلا (جدا جدا) وي، او جماعتونه به هم بېشماره ولاړ وي، په يوه ځاى كې د يوه موقف او جماعت بيان راځي، او په بل ځاى كې د بل جماعت او موقف ذكر كيږي.

قَالَ ادْخُلُوا فِي أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُم مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ فِي النَّارِ

وبه فرمايي (الله يا پرښته په قيامت کې دوی ته) چې ننوځئ په هغو امتونو (د کفارو) کې چې په تحقيق تېر شوي دي پخوا له تاسې له (کفارو د جن) پيريانو او له (کفارو د) انسانانو په اور (د دوزخ) کې.

تفسير: مطلب يې دادی چې: «تاسې هم د پخوانيو کفارو په ملګرتيا د دوزخ اور ته ننوځئ» !، يعنې هغه وړاندې او وروسته ګرد کفار به په همدغه دوزخ کې داخليږي.

كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَّعَنَتْ أُخْتَهَا

هر کله چې ننوځي (د دوزخ اور ته) يو امت نو لعنت به وايي دغه امت پر هغه بل وړاندې امت چې په مثل د ده وو (د کفر په خاص مشرب کې)،

تفسير: يعنې په دې مصيبت کې يو له بله سره همدردي به چېړې وي، بلکه دوزخيان يو پر بل باندې لعن او طعن وايي، او مسخرې کوي او ملنډې سره وهي، ښايي چې تابعان به خپلو سردارانو ته وايي چې: «د الله لعنت دې پر تاسې وي، چې تاسې مونږ هم د خپلو ځانونو سره په عذابونو او ربړونو (تکليفونو) کې ډوب کړو»، سرداران به خپلو اتباعو ته وايي: «ای ملعونانو ! که مونږ په کنده کې ولوېدو، ستاسې خو سترګې وې، نو تاسې ولې د ړندو په شان په مونږ پسې رالوېدئ» وغير ذلک.

حَتَّىٰ إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا جَمِيعًا قَالَتْ أُخْرَاهُمْ لِأُولَاهُمْ رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ أَضَلُّونَا فَآتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ۖ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَلَٰكِن لَّا تَعْلَمُونَ ﴿٣٨﴾

تر هغه پورې کله چې يو ځای شي دوی په دې (اور) کې ټول؛ نو وبه وايي وروستني د دوی (يعنې تابعان) په (باب دهغو) ړومبنيو (متبوعانو) خپلو کې (الله ته چې) ای ربه ځمونږ ! دغو (مشرانو متبوعانو) ګمراه کړي وو مونږه؛ نو ورکړه دوی ته عذاب دوچند (ځمونږ) له اوره (د دوزخ)، وبه فرمايي الله چې: دی لپاره د هر يوه دوچند (عذاب)، ليکن نه پوهېږئ تاسې (پرې او نه خبر ېږئ د يو بل له عذاب نه).

تفسير: يعنې په يوه حساب د پخوانيو د ګناهونو عذاب دوچند شو، چې هم پخپله دوی ګمراهان شوي وو، او هم يې راتلونکو لره لارې جوړې کړې، او په بل صورت د وروستنيو ګناه دوه چنده شوه، چې دوی په دغسې حال کې ګمراهان شول، چې د پخوانيو امتونو احوال د دوی په مخ کې ښکاره پراته وو، او دوی ترې هيڅ پند او عبرت نه اخيست.

يا ځرنګه چې د هر دوزخي احوال له خپلو درجو سره سم وخت په وخت زياتيږي، نو ځکه يې وفرمايل چې د هر يوه عذاب به پرله پسې برابر دوه چنده کيږي، او لا به پسې زياتيږي، اوس د تعذيب په ابتداء کې تاسې د تعذيب له انتهاء څخه بې خبره يئ، يعنې د پخوانيو د عذاب د دوچند کېدلو څخه به وروستنيو ته څه راحت، هوسايي (آرام) او شفاء نه په برخه کيږي.

دا تقرير به په هغه صورت کې موافق راځي چې د ﴿لِكُلٍّ ضِعْفٌ﴾ څخه دواړه فرقې مرادې شي.

خو د «ابن کثير رحمه الله» په نزد په دې آيت کې وروستنيو ته اطلاع ورکړی شوې ده، چې بېشکه مونږ له پخوانيو څخه هر يوه ته سم د هغه له درجې سره دوه چنده عذاب مقرر کړی دی، لکه چې په بل ځای کې يې خبر ورکړی

دی: ﴿الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ زِدْنَاهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوا يُفْسِدُونَ﴾ (۱۴ جزء د النحل سورت (۸۸) آیت (۱۲) رکوع) ﴿وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ وَلَيُسْأَلُنَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَمَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ﴾ (۲۰ جزء د العنکبوت سورت (۱۳) آیت (۱) رکوع)، ﴿لِيَحْمِلُوا أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمِنْ أَوْزَارِ الَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ أَلَا سَاءَ مَا يَزِرُونَ﴾ (۱۴ جزء د النحل سورت (۲۵) آیت (۳) رکوع).

وَقَالَتْ أُولَاهُمْ لِأُخْرَاهُمْ فَمَا كَانَ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٣٩﴾

او وبه وایي هغه ړومبني (متبوعان) د دوی په حق د وروستنیو (تابعانو) د دوی کې: چې پس نه وو تاسو ته پر مونږ باندې هیڅ فضل (بهتري په تخفیف د عذاب کې، او مونږ او تاسې برابر یو په کفر کې) نو وڅکئ تاسې عذاب په سبب د هغو کارونو چې وئ تاسې چې کول به مو (په دنیا کې له شرک او کفر څخه).

تفسیر: یعنې ځمونږ د سزا د زیاتونې د خواهش څخه تاسې ته څه په لاس درغله؟ آیا ستاسې په عذاب کې څه تخفیف راغی؟ نه، تاسې هم د خپلو چارو نتیجې وګالئ (برداشت کړئ) او خوند یې وڅکئ !.

إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِينَ ﴿٤٠﴾

بېشکه هغه کسان چې نسبت د دروغو کوي آیتونو ځمونږ ته او تکبر کوي (له قبول) د هغو؛ وبه نه پرانیستلی شي دوی ته وَرُونه د آسمان (چې پورته یوړی شي نېک عملونه او ارواح د دوی) او نه به داخل شي دوی جنت ته، تر هغه پورې چې ننوځي اوښ په سوري د ستنې کې، او همداسې (لکه جزا د متکبرانو) جزا ورکوو مونږ مجرمانو (کافرانو) ته.

تفسیر: یعنې نه په ژوند کې د دوی اعمالو ته آسماني قبول او رفعت حاصل دی، او نه وروسته له مرګه د دوی ارواحو ته اجازه شته، چې دآسمان په لوري وخیژي، په حدیث کې راغلي دي چې: «د کافرانو اعمال او ارواح د آسمان له جانبه د «سجّین» په لوري شړل کیږي، چې تر ځمکې لاندې دی، او د مؤمنانو اعمال او ارواح تر اومه آسمانه «علیّین» پورته خیژي، مفصل احوال دې د احادیثو په کتابونو کې ولوستل شي !.

﴿حَتَّىٰ يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ﴾ «تر هغه پورې چې ننوځي اوښ په سوري د ستنې کې»، دا یې د «تعلیق بالمحال» په ډول وفرمایل، د هرې ژبې په محاورو کې داسې امثال شته، چې په کې د یوه شي محالتوب په بل محال شي باندې معلق وي، او دا تري ظاهریږي.

همغسې چې هغه شی لا ممکن دی؛ دغه شی هم ناممکن دی، یعنې لکه چې دغه خبره د کېدلو نه ده، چې اوښ سره له خپل لوی جسامت د ستنې په سوم کې سره د هغه د وړوکوالي او صغارت ننوځي؛ همداسې د دغو مکذبینو او متکبرینو په جنت کې داخلېدل محال دي، ځکه چې حق تعالی په جهنم کې د دوی د «خُلود» خبر راکړی دی، او په علم الله کې هم دا سزا دوی ته ټاکلې (مقرره) شوې ده، نو بیا د الله تعالی د علم او اخبار څخه مخالف کار څرنګه واقع کېدی شي؟ !

لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِن فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ ﴿٤١﴾

مقرر دي دوی ته له دوزخ ځنې فرش، او وي به د پاسه د دوی آغوستنې (پردې د اور)، او همداسې (لکه جزاء د دې خلقو) جزا ورکوو مونږ ظالمانو ته.

تفسير: يعني له هرې خوا به تري اور چاپېر وي، او له هيڅ لوري او په يوه ډډه به هم دوی ته راحت او هوسايي (آرام) نه ورسيږي.

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٤٢﴾

او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، او کړي يې دي ښه (عملونه) تکليف نه فرمايو (بار نه آچوو) په هيڅ نفس مګر په قدر د طاقت د ده، دغه (مؤمنان) صاحبان (ملګري) د جنت دي، همدوی به په هغه (جنت) کې تل وي.

تفسير: ﴿لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا﴾ جمله معترضه ده، چې په دې سره يې په منځ کې تنبيه وفرمايله، چې ايمان او صالح عمل چې پرې دومره عظيم الشأن صله مرحمت کيږي، داسې کوم مشکل شی نه دی، چې د انسان له طاقته وتلی وي، يا يې دا مطلب چې له هر انسان ځنې دومره صالح عمل مطلوب دی، چې د هغه طاقت او قدرت وي، له هغه څخه زياته مطالبه نه کيږي.

وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ

او وبه باسو مونږ هغه چې په سينو د دغو (جنتيانو) کې دی له کينو څخه.

تفسير: ﴿وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ﴾ څخه يا خو داسې مراد دی، چې د جنتيانو په منځ کې په جنتي نعمتونو کې يو له بله سره هيڅ قسم شک، شبهه، حسد، رڅه (کينه) نه وي، او هر يو به خپل ځان او نور جنتيان داسې ګوري؛ لکه چې يو ورور خپل بل خوږ ورور ګوري، او په ليدلو به يې خوشاليږي، په خلاف د دوزخيانو چې دوی به د هغه مصيبت په وخت کې يو بل ته پيغور ورکوي، او لعنتونه او کنځلې به کوي، لکه چې پخوا وليکل شو، يا به مراد داسې وي؛ چې د داسې صالحانو په منځ کې په دنيوي ژوندون کې که پر کومه خبره کوم خپګان او اندښنه پيښه شوي وي، او يو د بل په نسبت څه انقباض او تأثر لري؛ هغه ګرد به دجنت له ننوتلو څخه پخوا د دوی له زړونو ځنې ايستل کيږي، هلته به ګرد يو د بل په نسبت سليم الصدر او خوښ وي، لکه چې علي رضي الله عنه د ځان او خپلو مخالفينو په هکله فرمايلي وو.

تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ ۚ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَٰذَا ۖ وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا أَنْ هَدَانَا اللَّهُ ۚ لَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۖ

بهيږي به له لاندې د (مانيو او ونو د) دوی ويالې، او وايي به دغه (جنتيان): ګردې (ټولې) ثناوې او احسانات خاص الله لره دي، هغه (الله) چې برابر يې کړو مونږ دې (مقام) ته، او نه وو مونږ پخپله چې موندلې مو وی دا لاره؛ که نه وو هدايت کړی (لار ښوولې) مونږ ته الله، په تحقيق راغلي وو رسولان د رب ځمونږ په حقه سره.

تفسير: يعني د الله تعالى په مهربانۍ او توفيق او د رسولانو په سمه لار ښوونه او لاس نيونه مونږ دغه اعلى مقام ته رسيدلي يو، او دغه مرتبه مو په برخه شوې ده، که نه مونږ چېرې او د غه لوړې مرتبې چېرې.

وَنُودُوا أَن تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾

او آواز به وکړ شي دغو (جنتيانو) ته داسې چې دغه جنت په ميراث (ويړيا) درکړی شوی دی تاسې ته په سبب د هغه چې وئ تاسې چې کول به مو (له حسناتو په دنيا کې).

تفسير: په حديث کې راغلي دي چې: «هيڅا لره خپل عمل په جنت کې نه داخلوي»، د دې مطلب داسې دی، چې د جنت د داخلېدو حقيقي عوض عمل نه دی، او فقط ظاهري سبب يې ګڼه شي، ځکه چې د جنت د دخول حقيقي سبب د الله تعالى کامل رحمت دی، لکه چې په همدغه حديث کې راغلي دي، او د «إلا أن يتغمدني الله برحمته» له الفاظو څخې ظاهريږي.

هو ! پر بنده د الله تعالى د رحمت نزول هغومره کيږي، چې د عمل روح په کې موجود وي، شيخ الهند «رحمه الله» به تل فرمايل: «دغه ګاډی د الله تعالى په قدرت سره درومي، او عمل د هغو علائمو او اشاراتو په شان دی، چې په هغو سره دغه ګاډی حرکت کوي او دريږي».

ځينې مفسرين د دې آيت ترجمه داسې هم کوي: «او غږ به وکړ شي جنتيانو ته چې دا جنت درکړی شوی دی تاسې ته ويړيا لکه ميراث چې ويړيا وي، يا د کافرانو برخه جنت هم تاسې ته ميراث پاتې شو، لکه چې ستاسې برخه دوزخ هم دوی ته پاتې شو، په سبب د هغو اعمالو چې وئ تاسې چې کول به تاسې په دنيا کې، چې هغه استقامت او مواظبت وو په اوامرو او اجتناب وو له نواهيو څخه.

وَنَادَىٰٓ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ أَن قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا ۖ قَالُوا۟ نَعَمْ ۚ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ بَيْنَهُمْ أَن لَّعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا ۚ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ كَٰفِرُونَ ﴿٤٥﴾

او غږ به وکړي صاحبان د جنت (دخپه کولو لپاره) صاحبانو د اور ته داسې چې: په تحقيق مونده کړ مونږ هغه (ثواب) چې وعده کړې وه رب له مونږ سره ځمونږ په حقه (رښتيا) سره، نو آيا وموند تاسې (هم) هغه (عذاب) چې وعده کړې وه رب ستاسې په حقه (رښتيا) سره؟، (نو) وبه وايي دوزخيان چې هو ! (هغه مو همغسې بيا مونده !)، نو غږ به وکړي يو غږ کوونکی په منځ د دغو (جنتيانو او دوزخيانو) کې داسې چې: وي دې لعنت د الله په ظالمانو (کافرانو) باندې. هغه ظالمان چې آړوي دوی (خلق) له لارې د الله، او لټوي دوی په دغې (لارې) کې کوږوالی (عيب)، او همدوی په (راتلو د) آخرت (قيامت) باندې کافران (منکران) وو.

تفسير: په دغو آيتونو کې د هغو مکالماتو او مخاطباتو ذکر دی، چې د جنتيانو او دوزخيانو يا د دوی دواړو او أصحاب الأعراف په منځ کې سره کيږي، د ړومبنيو او وروستنيو خبرو او اترو څخه چې د «أصحاب الجنة» او د «أصحاب النار» په منځ کې د دې لوري يا د هغه لوري کيږي؛ له ورا څرګندېږي چې دغه مخاطبات د جنت يا د دوزخ له ننوتلو څخې وروسته کيږي، نو ځکه د کلام نظم داسې اقتضاء لري، چې د «أصحاب الأعراف» ضمني او منځنی خبرې او اترې هم وروسته له هغه ومنلی شي، په هر حال جنتيان د جنت له رسېدلو وروسته پر خپل حال د خوشالی اظهار کوي، او د دوزخيانو دتقريع او ترټلو او نکايت او شرمولو لپاره به وايي: «هغه څه وعدې چې الله تعالى دخپلو رسولانو په ژبو له مونږ سره فرمايلې وې، چې ايمان راوړونکو ته دائمي نعيم ورکړي، نو مونږ هغه په رښتيا او ښې سمې وموندلې، ای أهل جهنم ! تاسې ووايئ چې ستاسې پر کفر او عصيان کومې وېرې او تهديدونه چې درکاوه کېدل، آيا تاسې هم هغه رښتيا او صحيح وموندل؟».

ظاهر دی چې کفار په ځواب کې پرته له (هو !) څخه بل هيڅ شی نشي ويلی، په دغه وخت کې به د الله تعالى له لوري يو «منادي» ودريږي، او داسې غږ به کوي: «اګر که ګناهګاران ډېر دي» مګر د الله تعالى لوی لعنت او ډېره ترټنه پر هغو ظالمانو ده، چې دوی پخپله هم ګمراهان او د آخرت له انجامه بيخي بې فکره وو، او هم نور به يې د حق لارې

څخه بې لارې کول، او پخپلو کړو بحثونو سره به شپه ورځ په همدغه فکر کې وو؛ چې سمه او صافه لاره هرومرو (خامخا) کړه او خرابه معرفي او ثابته کړي.

وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ وَعَلَى الْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلًّا بِسِيمَاهُمْ وَنَادَوْا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَنْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ لَمْ يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ ﴿٤٦﴾

او په منځ کې د دغو دواړو (جنت او دوزخ يو ديوال) پرده ده، او پر اعراف باندې به سړي وي چې پېژني دوی هر يو (جنتي او دوزخي) په علامو د دوی سره، او غږ به وکړي دغه (أعرافيان) صاحبانو د جنت ته داسې چې: سلام دې وي پر تاسې باندې، حال دا چې داخل شوي به نه وي دغه (أعرافيان) جنت ته، او دوی به طمع (امید د جنت) لري.

تفسير: د «حجاب» معنی پرده او پناهي ده، او دلته له پردې څخه ديوال مراد دی، چې د حديد په سورت کې په دې تصريح شوې ده: ﴿فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُورٍ لَّهُ بَابٌ﴾ دغه ديوال به داسې يو مانع او حاجز وي، چې د جنت له خوندونو او لذتونو څخه دوزخيان بې برخې کوي، او د دوزخ له عذابونو، ربړونو (تکليفونو) او کلفتونو څخه جنتيان بې خبره کوي، چې د هغه تفصيلي علم مونږ نه لرو.

﴿وَعَلَى الْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلًّا بِسِيمَاهُمْ﴾ الآيه - «أي على أعراف ذلك الحجاب رجال»، يعنې دا الف لام عوضي دی، «أعراف» جمع د «عرف» ده، چې د هر شي سر ته وايي، معنی يې دا چې وي به په کنګرو د دې قلعې باندې سړي چې دوی به جنتيان وينې او هم دوزخيان، او پېژني به جنتي په تک سپين نوراني مخ د ده سره، او دوزخي په تک تور ظلماني مخ د هغه سره، ځکه چې د دغه منځني ديوال د لوړې څوکې نوم «أعراف» دی.

د «أعراف أصحاب» څوک دي؟ قرطبي «رحمه الله» پر دغه موضوع دولس أقواله نقل کړي دي، ځمونږ په نزد راجح قول همغه دی، چې له حذيفه، ابن عبّاس، ابن مسعود رضي الله تعالى عنهم أجمعين غوندې جليل القدرو أصحابو اونورو اکثرو أسلافو او أخلافو څخه منقول دی، يعنې «د أعمالو له وزن کېدلو څخه وروسته جنتي هغه دی، چې د ده «حسنات» ډېر وخيژي، او دوزخي هغه دی چې «سيئات» يې زيات شي، او هغه کسان چې حسنات اوسيئات يې مساوي او يو برابر څرګند شي، هغوی به د «أعراف» أصحاب کيږي».

له رواياتو څخه معلوميږي، چې بالآخره «أصحاب الأعراف» هم جنت ته ځي، او برسېره په هغه دا خبره له دغې مسئلې څخه هم فهميږي، کله چې هغه ګناهګاران مؤمنان چې د دوی سيئات پر حسناتو غالب او د هغه په اثر په دوزخ کې غورځول کيږي، او دوی وروسته د خپلو سزاوو د ګاللو (تېرولو) څخه ببرته جنت ته بيول کيږي، نو «أصحاب الأعراف» چې د دوی حسنات او سيئات سره برابر دي، ښايي له دوی څخه ډومبی جنت ته لاړ شي.

وَإِذَا صُرِفَتْ أَبْصَارُهُمْ تِلْقَاءَ أَصْحَابِ النَّارِ قَالُوا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٤٧﴾

او کله چې وګرځول شي سترګې د دغو «أعرافيانو او وګوري» په لوري د صاحبانو (ملګرو) د اور؛ نو وبه وايي دغه (أعرافيان له ډېره هيبته): ای ربه ځمونږ ! مه ګرځوه (مه يو ځای کوه) مونږ سره له قومه ظالمانو (کافرانو).

تفسير: څرنګه چې أعرافيان د جنت او دوزخ په منځ کې اوسيږي، نو د دوی احوال د خوف او رجاء په منځ کې وي، کله چې جنتيانو ته ګوري؛ نو خوشاليږي، او هيله او اميد يې پيدا کيږي، او کله چې پر دوزخيانو د دوی سترګې ناڅاپه ولګيږي؛ نو له الله تعالى څخه ويريږي، او ترې پناه غواړي، څو دوی د دوزخيانو په ډله کې ونه غورځولی شي.

په ﴿صُرِفَتْ أَبْصَارُهُمْ﴾ کې اشاره دې ته ده چې أعرافيان عمدا دوزخيانو ته نه ګوري، بلکه بې اختياره به يې پرې نظر واقع کيږي.

وَنَادَىٰ أَصْحَابُ الْأَعْرَافِ رِجَالًا يَعْرِفُونَهُم بِسِيمَاهُمْ قَالُوا مَا أَغْنَىٰ عَنكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ ﴿٤٨﴾

او غږ به وکړي صاحبان د اعراف هغو سړيو ته (له دوزخيانو) چې پېژني به دا (اعرافيان) هغوی په علائمو د (ظلماني مخونو د) هغو سره، وبه وايي دا (أعرافيان دوزخيانو ته): هيڅ دفع ونه کړه له تاسې ډېر والي (د مال يا د رجالو) ستاسې او نه هغه چې وئ تاسې لويي به مو کوله (له حقه).

تفسير: يعنې برسېره په دې چې په دوزخ کې معذب کيږي، د دوی په څېرو کې به د دوزخيتوب علامې هم ښکاري.

يا يې دا مطلب دی، چې دوی به داسې خلق وي، چې د «أصحاب الأعراف» سره پېژندګلوي لري، او په دنيا يې ليدلي وي، نو ځکه کله يې چې په هغه ځای کې ووينې؛ نو په څېره يې پېژني، او داسې به وايي دوی ته چې: «هيڅ دفع ونه کړه له تاسې څخه ډېروالي د مال يا د رجالو ستاسې، او نه هغه چې وئ تاسې چې کبر، لويي به کوله تاسې له حقه»، يعنې د دې مصيبت په وخت کې ستاسې هغه ملاتړي جماعتونه او ډلې چېرې لاړې؟ او په دنيا کې هغه ځانمنې او لويي چې تاسې کوله، هغه اوس څه شوه؟

أَهَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ اللَّهُ بِرَحْمَةٍ ۖ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلَا أَنتُمْ تَحْزَنُونَ ﴿٤٩﴾

(وبه وايي أعرافيان چې) آيا دغه (په جنت کې) هغه (ضعيفان مسلمانان) دي چې قسمونه به خوړل تاسې (په دنيا کې) چې وبه نه رسوي دوی ته الله رحمت خپل (او اوس په جنت او رحمت کې دي، او الله هغو ته فرمايلي دي چې) ننوځئ جنت ته چې نه به وي هيڅ وېره پر تاسې باندې او نه به تاسې غمجن کېږئ.

تفسير: په دغه سره د «أهل الجنت» په لوري اشاره کوي، او دوزخيانو ته به ويلې کيږي؛ چې هغه ګوډ مات او له کاره وتلي مساکين او ضعيف الحال کسان چې تاسې هغوی حقير او خوار او اکرب ګڼل، او داسې به مو ويل چې: «آيا د پاک الله مهرباني په ګرد (ټول) عالم کې فقط په همدغسې کسانو کيږي ! ﴿أَهَٰؤُلَاءِ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّن بَيْنِنَا﴾ الآيه ـ» نن هغو ته وګورئ چې د ﴿ادْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ﴾ الآيه ـ مصداق ګرځيدلي دي، يعنې ننوځئ په جنت کې بې له خوف او وېرې، حال دا چې تاسې په دغه عذاب کې اخته او مبتلا يئ.

ځينې مفسرين ﴿ادْخُلُوا الْجَنَّةَ﴾ د أعرافيانو مقوله بولي، او ځينې يې د الله تعالى مقوله ګڼي، چې الله تعالى به أعرافيانو ته فرمايي، چې ننوځئ ای أعرافيانو جنت ته الخ.

وَنَادَىٰ أَصْحَابُ النَّارِ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَنْ أَفِيضُوا عَلَيْنَا مِنَ الْمَاءِ أَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ ۚ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٥٠﴾ الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَهْوًا وَلَعِبًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ نَنسَاهُمْ كَمَا نَسُوا لِقَاءَ يَوْمِهِمْ هَٰذَا وَمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ ﴿٥١﴾

او غږ به وکړي صاحبان د اور صاحبانو د جنت ته داسې چې: راتوی کړئ تاسې پر مونږ باندې له اوبو نه، يا (راواچوئ) له هغو شيونو چې روزي کړي دي تاسې ته الله، وبه وايي جنتيان (د دوزخيانو په ځواب کې): چې بېشکه الله حرام کړي دي دا دواړه (اکل او شرب) پر کافرانو.

هغه کافران چې نیولی دی دوی دین خپل تماشا او لوبې، او غولولي وو دوی ژوندانه لږ خسیس، نو نن ورځ به هېروو (پرېږدو) مونږ دوی؛ لکه چې هېر کړی وو دوی ملاقات د ورځې خپلې چې دغه ده، او (لکه چې) وو دوی چې په آیتونو ځمونږ به یې انکار کاوه (چې الله نه دي رالیږلي).

وَلَقَدْ جِئْنَٰهُم بِكِتَٰبٍ فَصَّلْنَٰهُ عَلَىٰ عِلْمٍ هُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٢﴾

او خامخا په تحقیق راوړی دی مونږ دغو (کفارو) ته کتاب چې واضح بیان کړي دي مونږ (معاني د) ده، حال دا چې عالمان وو مونږ (په معاني د ده) حال دا چې دغه کتاب هدایت او رحمت دی لپاره د (هغه) قوم چې ایمان (پرې) لري.

تفسیر: ځینې مفسرین د دې آیت ترجمه داسې کوي: «او هرومرو (خامخا) په تحقیق راوړی دی مونږ کفارو ته یو کتاب یعنې قرآن، چې په تفصیل په کې بیان کړي دي مونږ عقائد او دیني أحکام او مواعظ او قصص په علم کامل خپل سره په وجوه دتفصیل ، په دې حال کې چې رهنما او مهرباني ده لپاره د هغه قوم چې ایمان پرې راوړي».

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا تَأْوِيلَهُۥ ۚ يَوْمَ يَأْتِى تَأْوِيلُهُۥ يَقُولُ ٱلَّذِينَ نَسُوهُ مِن قَبْلُ قَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلْحَقِّ ۖ فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَآءَ فَيَشْفَعُوا۟ لَنَآ أَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ ٱلَّذِى كُنَّا نَعْمَلُ ۚ قَدْ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٥٣﴾

آیا انتظار کوي دوی (بلکه نه کوي) مګر عاقبت د هغه (شي ته چې په دغه کتاب) کې دي (له ثواب او عذابه چې ورښکاره شي)، په هغې ورځې کې چې راشي عاقبت د ده (په قیامت کې) وایي به هغه کسان چې هېر کړی وو دوی دغه کتاب پخوا له دې نه (په دنیا کې): په تحقیق راغلي وو رسولان د رب ځمونږ په حقه سره (خو ومو نه منل او بد مو وکړل)، نو آیا شته مونږ لره (اوس) له شفاعت کوونکو څخه یو څوک چې شفاعت وکړي دوی لپاره ځمونږ، یا بېرته بوتلل شو (دنیا ته)؛ نو (نښه) عمل به وکړو غیر له هغه (بد) عمل چې وو مونږه چې کاوه به مو (په دنیا کې)، (وبه فرمایي الله): په تحقیق زیان رسولی دی دوی ځانونو خپلو ته په کفر، او ورک (او بې فائده) شو له دوی نه هغه چې وو دوی چې دروغ به یې ویلې (د شرک).

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۖ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ يَطْلُبُهُۥ حَثِيثًا ۗ وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتٍۭ بِأَمْرِهِۦٓ ۗ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾

بېشکه چې رب ستاسې الله دی هغه (الله) چې پیدا کړي یې دي آسمانونه او ځمکه (او هغه شیان چې د دوی په منځ کې دي) په (موده) شپږو ورځو کې، بیا اوچت شو الله پر عرش، پټوي (تیاره د) شپې په (رڼا د) ورځې؛ چې طلب کوي هره یوه بل لره په تلوار سره، (او پیدا کړي یې دي) لمر او سپوږمۍ او ستوري حال دا چې مسخّر (منقاد) کړی شوي دي امر (حکم) د الله ته، خبردار شئ چې (خاص) الله لره دي پیدا کول او امر (حکم فرمایل)، لوی برکت والا دی الله چې رب (پالونکی) دګردو (ټولو) عالمیانو (د جهان دی).

تفسير: ﴿ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ﴾ «بيا اوچت شو الله پر عرش» د الله تعالى د صفاتو او افعالو په نسبت دغه خبره ښايي تل په ياد وساتل شي، چې د قرآن او حديث په نصوصو کې کوم الفاظ چې د الله تعالى د صفاتو د بيانولو لپاره اختياراوه شي، په هغو کې على الأكثر همغه شيان دي، چې د مخلوقاتو په صفاتو کې استعماليږي، مثلا الله تعالى ته حي، سميع، او بصير ويلى شوى دى، چې پر انسانانو هم د دغو صفاتو اطلاق کاوه شي، مګر په دغو دواړو مواقعو کې د استعمال حيثيت بيخي بېل او جدا (جلا) دى، نو پرته له دې خبرې څخه چې د هغه صفات د مخلوقاتو په شان نه دي؛ نور څه ويلى نه شو: ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾ نه يواځې «سمع» او «بصر» بلكه د ده ګرد صفات ښايي همداسې وګڼلى شي، چې صفت د خپل أصل المبدأ (وضاحت د معنى) او غايت په اعتبار ثابت دى، مګر د هغه هيڅ يو كيفيت نشي بيان كېدى، او د سماوي شرائعو له خوا داسې څه حكم صادر شوى نه دى، چې انسان په داسې ما وراء العقولو حقائقو کې هم غور او خوض وكړي، او ځان په ربړونو (تكليفو) کې اخته كړي، د دې خبرې څه خلاصه مو په (٦) جزء د المائده سورت پـه (٦٤) آيت (٩) ركوع کې د ﴿وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ﴾ لاندې بيان كړې ده، په ﴿اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ﴾ هم له دې سره سم وپوهېږئ، د عرش معنى تخت او د «استواء» ترجمه اكثرو محققانو په استقرار سره هم كړې ده، لكه چې حافظ ابن القيم رحمه الله فرمائي:

ولهم عبارات عليها أربع *** قد حصلت للفارس الطعان

وهي (استقر) وقد (علا) وكذلك (ارتفع) الذي ما فيه من نكران

وكذاك قد (صعد) الذي هو رابعٌ *** وأبو عبيدة صاحب الشيباني

يختار هذا القول في تفسيره *** أدرى من الجهمي بالقرآن

﴿يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ﴾ : «پټوي تياره د شپې په رڼا د ورځې چې طلب كوي هره يوه بلې لره په تلوار سره، يا لټوي هره يوه له دوى بله په تلوار بلا فاصل يعنې متصل ورپسې راځي لكه طالب، او پيدا كړي دي مونږ لمر او سپوږمى او ستوري»، يعنې د شپې تياره د ورځې په رڼا سره يا د ورځې رڼا د شپې په تيارې سره پټوي، او همداسې پرله پسې يو د بل تعاقب كوي، او په تلوار سره اوړي را اوړي، همدا چې شپه پاى (آخر) ته ورسيږي، ورپسې جوخته ورځ راځي، يا چې ورځ ختمه شي، ورپسې سمه شپه رسيږي، د دې دواړو په منځ كې د يوې شپې فرق او وقفه نه راځي، ښايي په دې سره يې داسې تنبيه فرمايلې وي: همداسې كله چې د كفر او ضلالت او د ظلم او عدوان توره تياره شپه پر عالم محيطه شي، نو هغه وخت الله تعالى د ايمان او عرفان په لمر سره هرې خوا ته رڼا خوروي.

﴿مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ﴾ «چې مسخر، منقاد او قايل وي حكم د الله ته» يعنې هيڅ يو ستورې بې د الله تعالى له حكمه نشي خوځېدلى، او ټول د اله العالمين په حكم او فرمان پخپلو وظائفو كې مشغول دي.

﴿أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ﴾: «واورئ ! خبردار شئ ! چې خاص الله لره دي پيدا كول او امر (حكم) كول)، لوى بركت والا دى الله چې رب پالونكى د ګرد جهان دى»، پيدا كول «خلق» دى، او د پيدا كولو څخه وروسته تشريعي يا تكويني احكام وركول «امر» دى، او دغه دواړه د الله تعالى په قبضه او اختيار كې دي، نو په دې شان د ګردو محاسنو او بركاتو منبع شو، بېشكه چې الله تعالى ډېر لوى ذات دى، په وحدانيت او الوهيت او ربوبيت او نورو جلالي او جمالي صفاتو خپلو كې، جل جلاله، عمّ نواله، وأعظم برهانه.

ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً

وبولئ تاسې رب خپل (هر وخت) په زارۍ عذر او په پټه سره (ځكه چې په پټه بلل د اخلاص دليل دى).

تفسير: كله چې د «عالم الخلق» او «عالم الأمر» مالك او د ګردو برکاتو منبع هم دغه پاک ذات دی، نو پخپلو دنيوي او اخروي حوائجو کې ښايي چې په الحاح، اخلاص، خشوع او خضوع سره يې له ځان ښوولو او ريا څخه ورو ورو وباله شي !.

له دې نه معلوميږي چې په دعاء کې اصل اخفاء ده، او هم دغه په اسلافو کې معموله وه، په ځينو مواضعو کې جهر او اعلان به د کوم عارض له مخې وي، چې د هغه تفصيل په «روح المعاني» او نورو کې شته.

إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿٥٥﴾

بېشکه چې الله نه خوښوي تيريکوونکي (له شرعي حدودو په دعاء بلکه په هر څه کې).

تفسير: يعنې په دعاء کې دې د ادب له حدودو تېرى ونه کړى شي، مثلا هغه شيان چې عادتاً يا شرعاً محال وي؛ هغه وغواړي، يا د معاصيو او لغو شيانو طلب وکړي، يا داسې کوم سوال وکړي چې د ده له شان او حيثيته سره څه مناسبت نه لري، (يا به مراد ترې پورته کول د غږ وي، يا به ډېر اوږدول د دعا وي) دا ګرد (قول) په «اعتداء في الدعاء» کې داخل دي.

وَلَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَٰحِهَا وَٱدْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا ۚ إِنَّ رَحْمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٦﴾

او مه کوئ فساد (اى انسانانو !) په ځمکه کې وروسته له اصلاح د دې (د انبياوو په بعثت سره)، او وبولئ تاسې الله (عبادت يې کوئ) په خوف (وېرې) سره (له عذابه د الله)، او په طمع (اميد د رحمت د الله)، بېشکه چې رحمت (مهرباني) د الله ډېره نژدې ده محسنانو (نيکي کوونکو) ته.

تفسير: يعنې کله چې په دنيا کې د معاملاتو سطحه اصلاح، برابره او درسته شي؛ نو بيا تاسې په هغې کې اختلال او اشکال مه آچوئ !، او سره له خوف او رجاء د پاک الله په عبادت کې لګيا او مشغول اوسئ ! مه د الله تعالى له رحمته مأيوس او نا اميده شئ، او مه د الله تعالى له عذابه مأمون او بې فکره وګرځئ، او مه ککړوئ خپل ځانونه په ګناهونو او مه پرې جرأت کوئ !، راجح همدا ده چې دلته په «وادعوه» کې له «دعاء» څخه عبادت مراد شي، لکه چې د «صلاة التهجد» په باره کې يې فرمايلي دي: ﴿تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا﴾.

وَهُوَ ٱلَّذِى يُرْسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهِۦ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا سُقْنَٰهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَنزَلْنَا بِهِ ٱلْمَآءَ فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ ۚ كَذَٰلِكَ نُخْرِجُ ٱلْمَوْتَىٰ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٥٧﴾ وَٱلْبَلَدُ ٱلطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُۥ بِإِذْنِ رَبِّهِۦ ۖ وَٱلَّذِى خَبُثَ لَا يَخْرُجُ إِلَّا نَكِدًا ۚ كَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَشْكُرُونَ ﴿٥٨﴾

او همدغه (الله) هغه ذات دى چې رالېږي بادونه زېرى کوونکي په مخ کې د رحمت د ده (چې باران دى)، تر هغه پورې چې راواخلي (دغه بادونه) وربځې درنې (په اوبو سره) چې روانوو مونږ دغه (وربځې زرغونولو د) هغه ځمکې ته چې مړه (وچه بې ګياه) وي، پس نازلوو مونږ له دې وربځو څخه اوبه؛ نو راباسو مونږ په هغو اوبو له هر قسم مېوو څخه، همداسې (چې دغه مړه وچه ځمکه ژوندى کوو) راباسو مونږ مړي (له ځمکې) لپاره د دې چې پند واخلئ (او لازم دي چې غور په کې وکړئ). او ځمکه پاکه (خوږه صالح الزراعته) راوځي زرغونه د دې (ښه کامله) په اذن (حکم) د رب د ده، او هغه ځمکه چې خرابه شوره ناکه وي؛ نه راوځي (زرغونه يې) مګر لږ ناقصه، په شان د دې (پاس مثالونو) بيا، بيا، بيانوو آيتونه لپاره د قوم (مؤمنانو) چې شکر باسي.

تفسير: او س د «سفليّاتو» او د «كائنات الجو» په متعلق د خپلو ځينو تصرفاتو ذكر فرمايي، تر څو خلق پرې ښه وپوهيږي، چې دګردو (ټولو) علويّاتو او سفليّاتو او جويّاتو اسمان، ځمكه، او د دوى دواړو په منځ او شاوو خوا كې د ګردو (ټولو) موجوداتو عمومي حكومت د پاك الله رب العالمين په قبضه كې دى، د بادونو چلېدل، د بارانونو، واورې، ږلى ورول، د راز راز (قسم قسم) ګلانو، شنيليو، او نباتاتو پيدا كول د هرې ځمكې له استعداده سره سم په كې كښتونه (فصلونه) د څرګ ځايونه، باغونه، رياحين، أشجار، أثمار او نور شيان پيدا كول؛ دا ګرد (ټول) د الله تعالى د كامله قدرت او بالغه حكمت علامې او نښې دي.

كله چې الله تعالى په خپل رحمت او شفقت سره توره تياره شپه په ستورو، سپوږمۍ او لمر سره رڼا كوي، او له وچې ځمكې څخه شنيلي او نباتات زرغونوي، او له هغو څخه د انسانانو او حيواناتو د ژوندون سامان تياروي، او د ګردو (ټولو) سفلياتو د حيات او نشاط د مهيا كولو لپاره له آسمانه وريا (باران) رانازلوي؛ نو څرنګه كېداى شي چې داسې مهربان الله د خپل مخلوق بني آدمانو لپاره داسې كوم ستورى، سپوږمۍ او لمر به يې نه وي پيدا كړى، چې دوى د جهل او ظلم له تيارو څخه هم وباسي، او د روحاني غذاء د تيارولو د معنوي كښتونو (فصلونو) د سپرابولو (اوبولو او لويولو) لپاره به يې د رحمت باران نه وي نازل كړى؟.

او لكه چې د باران او د ځمكې په مثال كې اشاره كړى شوې ده، چې مختلفې ځمكې د خپلو استعدادونو سره سم د باران اثر قبلوي، همداسې وپوهيږئ چې انبياء عليهم السلام د هغه خير او بركت لپاره چې لېږلي شوي وو، له دوى ځنې منتفع كېدل هم په ښو استعدادونو پورې موقوف دي، هغه خلق چې ترې انتفاع نه اخلي، يا پوره نه منتفع كيږي، دوى ته ښايي پر خپلو دغو بدو استعدادونو وژاړي.

لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٥٩﴾ قَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ ﴿٦٠﴾

قسم دى په تحقيق ليږلي وو مونږ نوح قوم خپل ته نو وويل (نوح): اى قومه ځما ! عبادت وكړئ تاسې د الله، نشته تاسې ته هيڅ معبود برحق بې له دغه (الله)، بېشكه زه ويرېږم په تاسې باندې له عذاب د ورځې لويې (طوفان يا د قيامت). نو وويل مشرانو له قومه د نوح: بېشكه مونږ وينو (يا ګڼو) تا په ګمراهۍ څرګنده كې (چې پلرنى دين دى پريښى او ډېر معبودان نه منې).

تفسير: د آدم عليه السلام قصه د دې سورت په ابتداء كې تېره شوه، وروسته له آدم عليه السلام لومړنى اولوا العزم او مشهور رسول نوح عليه السلام وو، چې د أهل الأرض د مشركانو د اصلاح او هدايت لپاره ولېږل شو، اګر كه د نوح عليه السلام د خاص شريعت په اعتبار د ده بعثت خاص د ده د قوم په لوري وو، خو بيا هم د هغو اساساتو او اصولو په اعتبار چې د ګردو (ټولو) انبياوو عليهم السلام په اصولو كې سره ګډ او مشترك دي؛ د هغه مخاطبان ګرد انسانان دي.

وايي چې د آدم عليه السلام څخه لس قرنه وروسته د هغه ګرد اولاد د توحيد پر كلمه ټينګ ولاړ وو، د بت پرستۍ ابتداء د ابن عبّاس رضي الله تعالى عنه له قول سره موافق داسې شروع شوه، چې د ځينو صالحانو د وفات څخه وروسته چې د دوى نومونه (ود، سواع، يغوث، يعوق، او نسر) وو، او د نوح په سورت كې مذكور دي، خلقو د هغو څېرې جوړې كړې، تر څو د دوى د احوالو، عباداتو اونورو خصوصياتو يادونه پرې وشي، لږ څه وروسته د هغو تصاويرو په شان څو مجسمې تيارې شوې، او متدرجا خلق د دغو مجسمو په عبادت كې لګيا شول، چې د همغو مشرانو په نامه موسومې شوې وې.

کله چې د بت پرستۍ وبا خوره او منتشره شوه، نو الله تعالى نوح علیه السلام ولېږه، نوح علیه السلام پخوا له طوفانه خپل قوم ته تر نهه نیم سوه کاله پورې د توحید او د تقوى په لورې دعوت ورکړ، او د دنیا او آخرت له عذابونو څخه یې دوی وویرول، مګر خلقو د ده دعوت او بلنه ونه منله، او د نوح علیه السلام په تضلیل او تجهیل یې لاس پورې کړ، تر څو د طوفان لوی عذاب دوی ګرد سره ونیول، او همغسې چې د نوح علیه السلام دعا وه: ﴿رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا﴾ د ځمکې د مخې هیڅ یو کافر له الهي عذابه خلاص نشو.

قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي ضَلَالَةٌ وَلَٰكِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦١﴾ أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنصَحُ لَكُمْ وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٢﴾ أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَاءَكُمْ ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ لِيُنذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوا وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٦٣﴾

وویل (نوح): ای قومه ځما! نشته په ما کې (له سره) هیڅ ګمراهي، ولیکن زه یم رسول (استازی) له جانبه د رب (پالونکی) د ګردو (ټولو) عالمیانو. رسوم تاسې ته پیغامونه د رب خپل او پند درکوم تاسې ته (محض لپاره د نفع ستاسې) اوپوهېږم له (جانبه د) الله (په وحیې سره) په هغه څه چې پرې نه پوهېږئ تاسې. آیا تعجب کوئ تاسې له دې چې راغلی دی تاسې ته ذکر (پند د وحیې) له لورې د رب ستاسې پر (ژبې د) یو سړي له (جنسه د) ستاسې لپاره د دې چې وویروي دی تاسې، او لپاره د دې چې پرهېزګاران شئ تاسې، او لپاره د دې چې پر تاسې باندې رحم وکړی شي.

فَكَذَّبُوهُ فَأَنجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا عَمِينَ ﴿٦٤﴾

پس نسبت د دروغو وکړ (کفارو دغه نوح) ته، نو نجات مو ورکړ دغه (نوح) او هغو کسانو ته چې له ده سره (ملګري) وو په بېړۍ کې، اوغرق مو کړل هغه کسان چې نسبت د دروغو یې کړی وو آیتونو ځمونږ ته، بېشکه دوی وو یو قوم ړانده (له حقه).

تفسیر: یعنې له هغو سره د نفعې او نقصان، او د حق او باطل هیڅ فکر او اندېښنه نه وه، ګردو (ټولو) ځانونه ړانده کړي وو، او پرله پسې په سرکښۍ، تکذیب او بغاوت کې یې ټینګار (همېشه والی) کاوه، او له بت پرستۍ او نورو متمردانه حرکاتو ځنې یې لاس نه آخیستل، نو په شمار څو مؤمنان د دوی له منځه وژغورل (وساتل) شول، چې له نوح علیه السلام سره په بېړۍ کې سواره شوي وو، نور ګرد (ټول) مکذبین سره ډوب شول.

اوس هومره انسانان چې په دې دنیا شته، دوی د همدې أهل السفینة بلکه د نوح علیه السلام له ذریاتو ځنې دي، (أهل السفینة (٨٠) مؤمنان وو، (٤٠) تنه نارینه، (٤٠) تنه ښځې، ځینې وایي چې (٩) تنه وو، درې ځامن د نوح علیه السلام سام، حام، یافث، او شپږ تنه نور، او ټول راکبین (١٦٠) ذوي الأرواح وو).

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٦٥﴾

او (لېږلی وو مونږ قوم د) عاد ته (قومي) ورور د دوی «هود»، وویل (هود): ای قومه ځما! عبادت کوئ تاسې د الله، نشته تاسې ته هیڅ (حق) معبود بې له الله، نو آیا تاسې نه ویرېږئ؟ (له عذابه د الله او پرهېز نه کوئ له شرکه؟).

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿٦٦﴾

نو وويل مشرانو هغو چې کافران شوي وو له قومه د دغه (هود): بېشکه مونږ خامخا وينو تا (خبس) په بې عقلۍ کې، او بېشکه مونږ خامخا ګمان کوو په تا له دروغجنانو.

تفسير: يعنې (معاذ الله) ته پخپله بې عقل يې، چې د خپلو پلرونو او نيکونو دود او دستور دې پرېښی دی، او دګردو له اخوت او ورورګلوی څخه ښل شوی يې، او دروغجن هم يې چې د خپلو اقوالو نسبت الله تعالی ته کوې، او مونږ له لوی عذاب څخه هم وېروې.

قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي سَفَاهَةٌ وَلَٰكِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦٧﴾ أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ أَمِينٌ ﴿٦٨﴾ أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَاءَكُمْ ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ لِيُنذِرَكُمْ ۚ وَاذْكُرُوا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاءَ مِن بَعْدِ قَوْمِ نُوحٍ وَزَادَكُمْ فِي الْخَلْقِ بَصْطَةً ۖ فَاذْكُرُوا آلَاءَ اللَّهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٦٩﴾

وويل (هود): اى قومه ځما ! نشته په ما کې (له سره) هيڅ بې عقلي، وليکن زه يم رسول (استازی) له جانبه د رب پالونکي (د ګردو عالميانو). در رسوم تاسې ته پيغامونه د رب خپل او زه تاسې ته نصيحت کوونکی ښه امانت ګر يم. آيا تعجب کوئ تاسې له دې چې راغلی دی تاسې ته ذکر (پند) له (لوري د) رب ستاسې پر (ژبه) د يوه سړي له تاسې لپاره د دې چې وويروي دی تاسې، او ياد کړئ تاسې هغه وخت چې ګرځولي وئ (الله) تاسې خليفګان (په ځمکه کې) وروسته له (غرقېدلو د) قوم د نوح، او زيات کړی يې دی تاسې ته په پيدايښت کې قوت، قامت، اوږدوالی، نو يادوئ تاسې نعمتونه (احسانونه) د الله، ښايي چې تاسې خلاصی وموئ ! (له عذابه د الله).

تفسير: يعنې الله تعالی پس له نوح عليه السلام په دنيا کې ستاسې حکومتونه قائم کړل، او د ده په ځای يې تاسې ودرولئ، او هلته مو وداني وکړه، ښايي چې هود عليه السلام دغه احسان دوی ته ور په ياد کړی وي، او د دغې خبرې تنبيه يې ورته ورکړي وي، چې د بت پرستی او تکذيب الرسول له امله هغه پېښې چې هغوی ته ورپېښې شوې وې؛ نه ښايي چې تاسې ته هم درپېښې شي.

او زيات کړی دی الله تاسې ته په پيدايښت کې قوت او قامت او اوږدوالی، چې د جسماني قوت، طول، عرض، شجاعت او حماست په اعتبار تاسې ډېر يو نومیالی او مشهور قوم يئ؛ نو ياد کړئ تاسې نعمتونه د الله، ښايي خلاصی وموئ له عذابه د الله، دغه احسانات چې مذکور شول، او برسېره پر هغو نور بې شماره احسانات يې ور په ياد کړل، او ور په زړه يې کړل، چې ښايي د هغه پاک الله شکر ګذاري وکړئ ! اوګرد (ټول) احکام يې ومنئ ! او له سره تاسې ته نه ښايي چې د هغه حقيقي منعِم په مقابل کې بغاوت وکړئ، او غاړه ترې وغړوئ ! .

قَالُوا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللَّهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا ۖ فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٧٠﴾

وويل عاديانو (هود ته): آيا راغلی يې ته مونږ ته د دې لپاره چې عبادت وکړو مونږ د الله يواځې او پرېږدو هغه (بتان) چې وو چې عبادت به کولو (د هغو) پلرونو ځمونږ، نو راوړه مونږ ته هغه عذاب چې ته (پرې) وېروې مونږ که يې ته له صادقانو (رښتيا ويونکو په خبرو خپلو کې).

تفسير: يعنې له هغه عذابه چې مونږ وېرووې، که ته رښتين يې؛ نو يې ژر راوړه، مونږ خو د بتانو عبادت نه پرېږدو، او د خپلو پلرونو له دستوره لاس نه اخلو.

قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُمْ مِّن رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَغَضَبٌ ۖ أَتُجَادِلُونَنِي فِي أَسْمَاءٍ سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم مَّا نَزَّلَ اللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ ۚ فَانتَظِرُوا إِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُنتَظِرِينَ ﴿٧١﴾

وويل (هود) په تحقيق واقع (واجب) شو پر تاسې له (لوري) د رب ستاسې عذاب او قهر، آيا جګړه کوئ تاسې له ما سره په هغو (تشو) نومونو کې چې ايښي دي هغه (نومونه) تاسې او پلرونو ستاسې، حال دا چې نه دی رالېږلی الله په عبادت کولو د دوی هيڅ برهان علمي سند؟ ! نو انتظار کوئ تاسې (د عذاب) بېشکه زه چې يم له تاسې سره له منتظرانو څخه يم.

تفسير: يعنې کله چې ستاسې سپين سترګي، سرکشي، ګستاخي او بې حيايي تر دې حده پورې رسېدلې ده؛ نو وپوهېږئ چې د الله تعالى قهر او غضب پر تاسې نازل شوی دی، او اوس د هغه په راتلو کې هيڅ ځنډ (تأخير) او ډيل کېدونکی نه دی.

تاسې چې بتانو ته داسې وايئ: «هغه روزي ورکوي، او دغه باران اوروي، او دا اولاد ورکوي، وقس على هذا»؛ دغه تش يو نوم او يواځې بې حقيقته يو مفهوم دی، او بيخي واقعيت اوحقيقت نه لري، د الوهيت صفات په تيرې (کتې) او نورو مخلوقاتو کې له کومه راغلل؟ ! بيا نو د داسې معبودانو په نسبت چې په هغوی کې د معبوديت هيڅ يو عقلي او نقلي سند نشته، بلکه په ټولو عقلي او نقلي اسنادو سره يې تردید کېږي، له ما سره د توحيد په مسئله کې ولې جګړې او بحثونه کوئ؟ کله چې ستاسې د جهل او شقاوت او عناد جام دومره ډک شوی وي؛ نو انتظار وکړئ چې الله تعالى د دغو ګردو (ټولو) جګړو فيصله (پرېکړه) وکړي، زه هم د همغه فيصلې ته منتظر يم.

فَأَنجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَمَا كَانُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٧٢﴾

نو خلاصی ورکړ مونږ دغه هود ته او هغو کسانو ته چې له ده سره وو په رحمت سره له (جانبه) ځمونږ، او پرې کړ مونږ بېخ د هغو کسانو چې نسبت د دروغو يې کړی وو په آيتونو ځمونږ او نه وو دوی مؤمنان (يقين کوونکي په وحدت او نبوّت).

تفسير: يعنې پر دوی اووه شپې او اته ورځې مسلسل د سخت باد سيلی (طوفان) راغله، چې د هغې په اثر ګرد (ټول) کفار ټوټې ټوټې او هلاک او پوښناه شول.

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ قَدْ جَاءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ هَٰذِهِ نَاقَةُ اللَّهِ لَكُمْ آيَةً ۖ فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِي أَرْضِ اللَّهِ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ وَاذْكُرُوا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاءَ مِن بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِي الْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا قُصُورًا وَتَنْحِتُونَ الْجِبَالَ بُيُوتًا ۖ فَاذْكُرُوا آلَاءَ اللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٧٤﴾

او (لېږلی وو مونږ) ثمودیانو ته (قومي) ورور د دوی صالح، وويل (صالح) ای قومه ځما ! عبادت کوئ تاسې د الله، نشته تاسې ته هيڅ (حق) معبود بې له دغه (الله)، په تحقيق راغلې ده تاسې ښکاره معجزه له (لوري د) رب ستاسې، دا اوښه د الله ده تاسې ته نښه، نو پرېږدئ تاسې دغه

(اوښه) چې خوري (واښه) په ځمکه د الله کې، اومه وروړئ تاسې لاسونه دې ته په (نيت) د بدۍ (يعنې ضرر مه وررسوئ)؛ نو وبه نيسي تاسې عذاب دردناک. (وويل صالح): او ياد کړئ تاسې هغه وخت چې وګرځولی (الله) تاسې خليفګان وروسته له عاديانو او ځاى ېې درکړو تاسې ته په ځمکه کې، چې نيسئ (جوړوئ) تاسې له هوارو نرمو ځايونو د دې ځمکې هسکې (اوچتې) مانۍ، او کنئ تاسې غرونه لپاره د کورونو، نو ياد کړئ تاسې نعمتونه د الله، او مه ګرځئ (کوښښ مه کوئ) تاسې په ځمکه کې حال دا چې قصد کوونکي د فساد يئ.

تفسير: يعنې هغه دليل چې تاسې غوښت؛ درورسېد، د صالح عليه السلام قوم له ده سره تعهد او اقرار کړى وو، چې که ته د يوې غټې لويې تيږې (ګټې) څخه يوه بلاربه اوښه راوباسې، نومونږ به پر تاسې ايمان راوړو، الله تعالى د صالح عليه السلام په دعاء همداسې وکړه، نو صالح عليه السلام دوى ته وويل چې: ځئ ! او س خو پاک الله ستاسې له غوښتنې سره سم هغه اوښه له دغې کلکې لويې تيږې څخه راوويسته، نو اوس په ايمان راوړلو کې ولې ډيل او تأمل کوئ؟ دغه اوښه د الله تعالى د قدرت او ځما د صداقت نښه ده، چې ځما په دعاء په غير معتاده طريقه سره الله تعالى پيدا کړه، نو د دې د حقوقو رعايت وکړئ ! مثلا د الله تعالى په ځمکه کې د مباحو وښو له خوراکه او د وار د اوبو د چښلو څخه يې مه منع کوئ ! الغرض د الله تعالى دې نښې ته چې ستاسې په غوښتنې سره په وجود راغلى ده؛ په بده وضع سره مه وړاندې کېږئ ! که نه تاسې ته به هم خير نه درپېښيږي.

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِن قَوْمِهِ لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِمَنْ آمَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَالِحًا مُّرْسَلٌ مِّن رَّبِّهِ ۚ قَالُوا إِنَّا بِمَا أُرْسِلَ بِهِ مُؤْمِنُونَ ﴿٧٥﴾ قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا بِالَّذِي آمَنتُم بِهِ كَافِرُونَ ﴿٧٦﴾

وويل مشرانو هغو چې کبر (او سرکشي) يې کړې وه (له ايمانه) له قومه د دغه (صالح) څخه هغو کسانو ته چې ضعيف (او کمزورى) ګڼلې شوي وو؛ هغه چاته چې ايمان يې راوړى وو له دوى څخه: آيا يقين لرئ تاسې په دې چې بېشکه صالح مرسل (رالېږلى شوى دى تاسې ته) له (لوري د) رب د ده؟ ووېل دغو (ضعفاوو چې هو !) بېشکه مونږ په هغه (توحيد او عبادت) چې رالېږلى شوى دى (صالح) په هغه مؤمنان (يقين لرونکي) يو، ووېل هغو کسانو چې لويي تکبر يې کړى وو: بېشکه مونږه په هغه شي چې ايمان راوړى دى تاسې په هغه باندې کافران (منکران) يو.

تفسير: يعنې په قوم کې هغه چې لويان، اومشران معاندان وو؛ دغو غټانو په غريبو او کمزورو مسلمانانو ته د استهزاء په ډول ويل چې: آيا دغه يواځې تاسې ته معلومه شوې وه، چې صالح د الله تعالى رسول دى؟ مسلمانانو به په ځواب کې دوى ته ويل: چې معلومېدل څخه معنى لري، دغه خو تاسې ته هم معلومه ده، هو ! مونږ خو صالح عليه السلام د زړه له کومې او اخلاصه قبول کړى دى، او ايمان مو پرې راوړى دى، متکبران به د داسې حکيمانه ځوابونو له آورېدلو ځنې شرمېدل، او ويل به يې: هغه شى چې تاسې قبول کړى دى؛ مونږ يې نه قبلوو.

فَعَقَرُوا النَّاقَةَ وَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوا يَا صَالِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿٧٧﴾

نو زخمي او مړه کړه دوى اوښه، او سرکشي وکړه دوى له امره (حکمه) د رب خپل، او ووېل دغو (کفارو چې) اى صالحه ! راوړه مونږ ته هغه عذاب چې ته ويروې مونږ ترې که يې ته له مرسلانو (په حقه سره).

تفسير: وايي دغه اوښه دومره عظيم الجثه لويه او ببره وه، چې په هر ځنګله کې به څړ ته ورتله؛ نو نور مواشي به له دې ځنې ويرېدل، او لرې به تري تښتېدل، او په خپل وار به په هر يوه کوهي باندې چې درېدله؛ د هغه کوهي ټولې اوبه به يې چښلې، او هغه به يې تش او خالي پرېښود.

ګواکې همغسې چې د دې پيدايښت فوق العاده وو، ګرد لوازم او د ژوندانه آثار يې فوق العاده وو، بالآخره کافران پرې په قهر او غصه شول، او د دې پر وژلو يې اتفاق او ټرون وکړ، او بدبخت (قذار بن سالف) يې لومړني پړکي پرې کړل، او بيا يې ووژله، وروسته د صالح عليه السلام وژلو ته هم تيار شول، او په دې ډول د صالح عليه السلام او د «ناقة الله» په نسبت څه احکام چې صادر شوي وو، د هغو مخالفت يې وکړ، او دغو کفارو ويل چې: ای صالحه ! راوړه مونږ ته هغه عذاب چې ته ويروې مونږ ترې که ته يې له مرسلانو په حقه سره.

داسې کلمات د انسان له ژبې څخه په هغه وخت کې وځي چې د الله تعالى له قهر او غضبه بيخي بې خوفه او بې پروا شي، «عاد الأولى» په شان «ثمود» هم داسې يوې مرتبې ته ورسېدل، چې د الهي عذاب مورد وګرځېدل، چې د دې ذکر دا دی:

فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿٧٨﴾

پس ونيول دوی زلزلې (پس له اوربدلو د سختې چيغې) نو وګرځېدل دوی (ګهيځ، سهار) په کورونو خپلو کې مړه پرمخې پراته.

تفسير: په بل آيت کې يې د دوی هلاک په «صيحې» يعنې چغې سره بيان فرمايلی دی، ښايي چې له لاندې به زلزله او له پاسه به ډېره سخته وبرووڼکې چغه شوي وي.

فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُحِبُّونَ النَّاصِحِينَ ﴿٧٩﴾

نو وګرځېده (صالح) له دوی (او لاړ تري متأسفا) او وويل: ای قومه ځما ! قسم دی خامخا په تحقيق سره ورساوه ما تاسې ته پيغام د رب خپل او پند مې درکړ تاسې ته، وليکن نه خوښوئ تاسې پند ورکوونکي.

تفسير: وايي چې صالح عليه السلام د خپل قوم د هلاکت څخه وروسته د مکې معظمې يا د شام په لوري لاړ، او د خپل تګ په وخت کې يې د دوی د مړو انبارونه وليدل، او داسې خطاب يې وکړ، لکه چې ځمونږ رسول أکرم صلى الله عليه وسلم د بدر مقتولينو ته خطاب کړی وو.

يا يواځې د تحسّر او تأسّف په ډول به يې يو فرضي خطاب کړی وي، لکه چې أدباء، او شعراء خرابو اطلالو (کنډوالو) او نورو سره داسې خبرې اترې او مخاطبې کوي.

ځينې وايي چې: دغه خطاب پخوا له هلاکته وو، يعنې کله چې ثموديانو هغه اوښه حلاله کړه، او د عذاب الله ور يې پر خپلو ځانونو وپرانيست، نو په دې صورت به په کلام کې د واقعاتو د ترتيب مراعات نه وي شوی، په هر حال په دغه خطاب سره د نورو تنبيه او اورول مقصود وو، چې ښايي تاسې د خپلو معتبرو خير غوښتونکو خبرې قبولې کړئ، او هر څوک چې د خپل حقيقي خير غوښتونکي خبرو ته غوږ نه ږدي، او نه يې مني، او قدر يې نه کوي؛ نو همداسې له بدې نتيجې سره مخامخ کيږي.

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٠﴾

او (یاده کړه ای محمده ! دوی ته قصه د) لوط، کله چې یې وویل قوم خپل ته: آیا راتګ کوئ تاسې ډېر بد کار (لواطت) تـه، چې نه دي ړومبي شـوي له تاسې څخه دې کار ته هیڅ یو له ټولو خلقو (نو تاسې یې هم مه کوئ !).

تفسیر: لوط علیه السلام د ابراهیم علیه السلام وراره وو، چې له ده سره عراق څخه شام ته راغی، او د الله تعالی له خوا د سدوم او د هغه شاوخوا د کلیو په لوري مبعوث شوی وو، چې د هغو ځایونو د خلقو اصلاح وکړي، او دوی له هغه خراب ګنده خلاف الفطرت او د بې حیایی له کارونو څخه وژغوري (وساتي)؛ چې په هغو سره د هغو ځایونو خلق نه یوائې اخته او مبتلا وو، بلکه دوی د دغې بې حیایی مبتکران هم وو، او پخوا له دوی نه په دنیا کې په دغې اخلاقي ناروغۍ هیڅوک نه وو مبتلا او نه تري خبر وو، اول شیطان دغه ملعون حرکت د «سدوم» اوسېدونکو ته وروښود، او بیا له هغه ځایه نورو ځایونو ته تیت (خور) او منتشر شو، لوط علیه السلام د دوی د دغه ملعون او شنیع حرکت له بدو عواقبو څخه دوی ته خبرداری او تنبیه ورکړه، او غوښتل یې چې دغه پلیتی او ګندګۍ له دنیا محوه او ورکې شي.

إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿٨١﴾

بېشکه تاسې خامخا راځئ سړیو ته لپاره (د قضاء) د شهوت په دې حال کې چې تجاوز کوونکي یئ (له خپلو) ښځو (نو نه یئ په حقه لاره، دا لا څه) بلکه یئ تاسې یوم قوم اسراف کوونکی (له شرعي حده تېرېدونکی په هر شي کې).

تفسیر: یعنې یوائې همدا نه ده چې د همدې یوې ګناه مرتکب شوي یئ، بلکه د دې خلاف الفطرت فعل ارتکاب د دې خبرې دلیل دی؛ چې تاسې د انسانیت له حدوده هم وتلي یئ.

وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٨٢﴾ فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿٨٣﴾

او نه وو ځواب د قوم د دغه (لوط د نصحیت په مقابل کې) مګر خو داسې چې ویل قوم د لوط (په خپلو منځو کې) چې وباسئ (وشړئ) تاسې دغه (لوط او تابعان یې) له قریې ستاسې (سدوم) بېشکه دوی داسې خلق دي چې په تکلّف سره ځان پاکوي (ځمونږ له افعالو). نو نجات ورکړ مونږ دغه (لوط) ته او اهل (اتباعو) د ده ته مګر ښځه د ده؛ چې وه له پاتې کېدونکو (په عذاب کې).

تفسیر: یعنې دوی بالآخر داسې وویل: هر کله چې لوط علیه السلام مونږ ګرد پلیت او نجس ګڼي، او خپل ځان پاک بولي، او له مونږ ځنې ډډه کوي، نو له بدانو سره د نېکانو څه غرض دی؟ نو ځکه دوی ګرد سره په دې فکر کې ولوېدل چې لوط علیه السلام له خپله منځه وباسي، او خپل ځانونه له دغې ورځنۍ جګړې څخه بیخي وژغوري (وساتي).

وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٨٤﴾

او اوورواوه مونږ په دوی باندې باران (د کانړو هلاک مو کړل)، پس ګوره ته چې څرنګه شو عاقبت (بده خاتمه) د ګناهګارانو (چې هلاک شول په عذاب سره).

تفسير: په بل ځای کې مذکور دي، چې ډېر کلي واړول شول، او د تيرو (ګټو) باران اورېده، د ځينو ائمه وو په نزد اوس هم ښايي چې لوطي ته همداسې سزا ورکړه شي، چې له کوم غره يا يوه لوړ ځای څخه وغورځاوه شي، او له پاسه په کانړو وويشتل شي، او يا په ډېر سخت بوی ناک او ګنده ځای کې بندي شي.

﴿فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ﴾ «وګوره ته چې څرنګه شو عاقبت او بده خاتمه د ګنهګارانو کافرانو چې هلاک شول په عذاب سره».

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا

او (لېږلی مو وو) مدين ته (قومي) ورور د دوی شُعيب،

تفسير: د قرآنکريم په بل ځای کې ذکر شوي، چې شعيب عليه السلام «أصحاب الأيكة» ته مبعوث شوی دی، که «أهل المدين» او «أصحاب الأيكه» دواړه سره هم دغه يو قوم وي؛ فبها ونعمت، او که سره دوه ببل ببل قومونه وي، نو دغو دواړو ته به مبعوث شوی وي، په دغو دواړو قومونو کې به په تول او پيمانه کې د کمولو مرض مشترک وي، په هر حال شعيب عليه السلام دتوحيد او نور عمومي دعوت او بللو څخه سربېره خلق يې د معاشرتي معاملاتو د خصوصي اصلاح او د حقوق العباد د حفاظت او ساتلو په نسبت هم په ډېر تأکيد او فعاليت سره متوجه ګرځولي دي.

قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ قَدْ جَاءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ

وويل (شعيب چې) ای قومه ځما ! عبادت وکړئ د الله، نشته تاسې ته هيڅ (حق) معبود بې له ده، په تحقيق راغلی دی تاسې ته دليل ښکاره له (لوري د) رب ستاسې.

تفسير: يعنې ځما د صداقت دليل ظاهر شوی دی، که زه د نصيحت خبره تاسې ته وکړم؛ هغه قبوله کړئ ! او په هغو خطرناکو عواقبو چې تاسې خبروم؛ له هغو ځنې ځان وژغورئ (وساتئ)، او د خپل خير او شر په باره کې هوښيار اوسئ.

فَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿٨٥﴾

نو پوره ورکوئ تاسې پيمانه (خلقو ته) او تله (تول هم) او کم مه ورکوئ تاسې خلقو ته شيونه (حقونه) د دوی، او فساد (خرابي) مه کوئ تاسې په ځمکه کې (په کفر او خيانت سره) پس له اصلاح د دې، دغه (اصلاح او امانتداري) خير (ډېر بهتر) دی تاسې ته که يئ تاسې ايمان راوړونکي.

تفسير: د بندګانو د حقونو رعايت او يو تر بله سره د معاملاتو د ساتنې مزيت چې نن ځمونږ د زماني پرهېزګاران هم چنداني توجه ورته نه لري؛ د الله تعالى په نزد دومره اهم شی دی، چې هغه يې د يوه جليل القدر رسول مخصوصه وظيفه مقرره کړه، او د هغه د مخالفت له سببه يو قوم پوپناه شو.

په دغو آيتونو کې د شعيب عليه السلام په ژبه خبر راکړی شوی دی، چې خلقو ته د ډېر لږ مالي ضرر، تاوان رسونه او په وطن کې وروسته د اصلاحي حالت له قيامه خرابي، فتنه او فساد آچول که د شرک او کفر په صورت کې وي، يا د ناحقه وژلو، لوټ کولو، او نورو مناهيو په شکل کې وي؛ دا ګرد (ټول) ممنوع دي، او د هيڅ يو ايماندار انسان له اعمالو څخه دا نشي کېدی، چې خلقو ته د دوی حقوق ورکړي، او په امانت کې خيانت وکړي، يا په وطن کې اله ګوله او شور ماشور جوړ کړي.

وَلَا تَقْعُدُوا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِهِ وَتَبْغُونَهَا عِوَجًا ۚ

او مه کښئ تاسې پر هره لاره (لپاره د شوکولو) حال دا چې ویروئ تاسې (خلق) او منع کوئ تاسې (خلق) له لارې د الله هغه څوک چې ایمان راوړي په الله باندې، او لټوئ تاسې دې (لارې) ته کوږوالی (عیب).

تفسیر: پر لارو ناستې دوه سببونه درلودل (لرل): یو له تلونکو، راتلونکو، او مسافرینو څخه په ظلم او جبر اموال او اسباب اخیستل، او بل د شعیب علیه السلام له ملاقاته او د الله تعالی له توحید او دین څخه د مؤمنانو او نورو خلکو منع کول، او د الهي دین په نسبت د عیب لټولو او اعتراض کولو په فکر کې اوسېدل.

وَاذْكُرُوا إِذْ كُنتُمْ قَلِيلًا فَكَثَّرَكُمْ ۖ وَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ ﴿٨٦﴾

او یاد کړئ تاسې هغه وخت چې وئ تاسې لږ (په سړیو او مالونو کې) نو ډېر کړئ (الله) تاسې، او وګورئ تاسې چې څرنګه شو عاقبت (بده خاتمه) د فساد کوونکو (چې وو پخوا له تاسې).

تفسیر: یعنې په سړیو او په دولت دواړو کې تاسې لږ وئ، الله تعالی تاسې ته له دواړو خواوو نه تزیید در په برخه کړ، ستاسې شمېر هم زیات شو، او د شتو او دولت خاوندان هم شوئ، تاسې د الله تعالی د دې احساناتو شکر ادا کړئ ! او د پاک الله شکر هلته ادا کیږي؛ چې تاسې د خالق تعالی او د «مخلوق الله» حق په ښه شان سره وپېژنئ ! او قولا او عملا په اصلاحاتو کې مشغول اوسئ، او په نعمتونو مغرور نه شئ ! او د فساد کوونکو او خرابي اچوونکو هغه انجام چې پخوا له دې نه واقع شوی دی؛ هغه تل تر سترګو لاندې ونیسئ، او د الله تعالی له انتقام او نیولو څخه تل وویر ېږئ.

وَإِن كَانَ طَائِفَةٌ مِّنكُمْ آمَنُوا بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ وَطَائِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوا فَاصْبِرُوا حَتَّىٰ يَحْكُمَ اللَّهُ بَيْنَنَا ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ ﴿٨٧﴾

او که وه یوه طائفه له تاسې چې ایمان یې راوړی وو په هغه شي چې رالېږلی شوی یم زه په هغه سره، او (وه بله) طائفه چې ایمان یې نه وو راوړی (عناداً)؛ نو صبر کوئ تاسې (ای مؤمنانو !) تر هغه پورې چې حکم (فیصله وکړي) الله په منځ ځمونږ کې، او هم دی خیر (بهتر) دی له ټولو حکم (فیصله) کوونکو (چې ظلم نشته د ده په حکم کې).

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِن قَوْمِهِ لَنُخْرِجَنَّكَ يَا شُعَيْبُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا ۚ قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَارِهِينَ ﴿٨٨﴾

وویل مشرانو هغو چې کبر (او سرکشي) یې کړې وه (له ایمان څخه) له قومه د دغه شُعیب خامخا وباسو مونږ تا (ای شُعیبه !) او هغه کسان (هم درسره وباسو) چې ایمان یې راوړی دی له تا سره له (دې) کلي (ښار) ځمونږ څخه، یا خامخا به راګرځئ تاسې دین ځمونږ ته، نو وویل (شعیب): «آیا (ګرځو به مونږ ستاسې دین ته) او ګڼ که اوسو مونږ ناخوښه (هم، بلکه نه ګرځو !).

تفسیر: «عود» د یوه شي څخه وتل او بیا د هغه په لوري ېږته ورتللو ته وای، د شُعیب علیه السلام د ملګرو په نسبت دغه لفظ حقیقتاً صادقېدی شي، ځکه چې هغوی له کفره وتلي او په اسلام کې داخل شوي وو، نو پخپله د شعیب علیه

السلام په نسبت دغه تصور له سره نشي کېدی؛ چې (معاذ الله) دی لومړی د کفارو په ملت کې داخل وو، او بیا مسلمان شوی دی، لا محاله، یا خو به د شُعیب علیه السلام په اعتبار دغه خطاب تغلیبي وي، یعنې د عامو مؤمنانو په حق کې هغه الفاظ چې استعمال شوي دي، غالبه اکثریت یې مرجع ګڼلی دی، او د شعیب علیه السلام لپاره یې بېل الفاظ نه دي اختیار کړي، یا دغه لفظ د شُعیب علیه السلام په حق کې د کفارو په زعم سره موافق ویلی شوی دی، ځکه چې پخوا له بعثته تر هغه وخته پورې چې شُعیب علیه السلام خپل دعوت او تبلیغ نه وو شروع کړی، نو د مدین د خلقو د کفریاتو په متعلق د ده د سکوت له لیدلو ځنې ښایي دغو کفارو ته به داسې ګومان پیدا شوی وي، چې دی هم ځمونږ له حاله سره شامل او ځمونږ په طور او طریقې راضي او خوښ دی، یا «عود» مجازا د مطلق صیرورت په معنی واخیست شي کما قاله بعض المفسرین.

قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللَّهِ كَذِبًا إِنْ عُدْنَا فِي مِلَّتِكُمْ بَعْدَ إِذْ نَجَّانَا اللَّهُ مِنْهَا ۚ وَمَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَعُودَ فِيهَا إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّنَا ۚ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ۗ عَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْنَا ۚ رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنْتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ ﴿٨٩﴾

په تحقیق به ترلي وي مونږ پر الله دروغ (بهتان) که وګرځو مونږ په دین د تاسې کې وروسته له هغه چې نجات راکړ مونږ ته الله له هغه (دین) نه، او نه ښایيږي مونږ ته دا چې بېرته وګرځو په هغه (دین) کې مګر کله چې اراده وفرمایي الله چې رب ځمونږ دی، احاطه کړې ده رب ځمونږ پر هر شي له جهته د علمه، (خاص) پر الله توکل کړی دی مونږ، ای ربه ځمونږه ! فیصله وکړه په منځ ځمونږ او په منځ د قوم ځمونږ کې په حقه سره، او هم دا ته یې غوره بهتر د فیصله کوونکو.

تفسیر: باطل او دروغ مذهب ته رښتیا ویل پر الله تعالی افتراء او بهتان ترل دي، نو بیا د یو جلیل القدر نبي او د هغه مخلصو تابعانو ځخه کله داسې ممکن دي؛ چې هغوی «معاذ الله» له رښتیا ځخه وتلي د دروغو په لوري بېرته ولاړ شي، او خپلې ټولې رښتینې دعواګانې چې د خپل حقانیت او د الله له لوري د خپل مأمور کېدلو په باره کې یې کولې؛ دروغ او افتراء وګڼي !.

﴿بَعْدَ إِذْ نَجَّانَا اللَّهُ مِنْهَا﴾: «وروسته له هغه چې نجات راکړو مونږ ته الله له هغه دین نه»، ځینو ته یې له ابتداء ځخه نجات ورکړی وو، چې له سره په هغه دین کې نه دي داخل شوي لکه شُعیب علیه السلام، او ځینې یې وروسته له دخوله د هغه ځخه ایستلي او نجات یې ور په برخه کړی وو، لکه د هغې زمانې عام مؤمنان.

﴿وَمَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَعُودَ فِيهَا﴾ الآیه - «او نه ښایيږي مونږ ته دا چې بېرته وګرځو هغه دین کې» یعنې په خپل اختیار یا ستاسې په اکراه او اجبار سره، ممکن نه دي چې مونږ «معاذ الله» د کفر په لوري لاړ شو، هو ! که فرضا د الله تعالی مشیئت ځمونږ د یوه تن په نسبت داسې وشي؛ نو د ده اراده هیڅوک نشي اړولی، که دهغه د حکمت اقتضاء همداسې وشي؛ نو هلته هیڅوک هیڅ شی نشي ویلی، ځکه چې د الله تعالی علم پر ټولو مصالحو او حکمتونو محیط دی، په هر حال ستاسې له ویرولو ځخه مونږ له سره نه ویرېږو، ولې چې ځمونږ پوره اعتماد او اعتقاد او ډاډینه (یقین) پر یوه الله جل جلاله دی، د بل چا په خوښه او غوښتنه سره هیڅ یو شي کېدونکی نه دی، هر شی چې کیږي فقط د پاک الله په مشیئت او د ده د محیط علم تر اثر لاندې به کیږي، همدا ده چې مونږ د خپلو او ستاسې د فیصلې لپاره د هغه لوی دربار ځخه غوښتنه او دعاء کوو، ځکه چې د داسې یوه قادر، علیم، حکیم الله له فیصلې ځخه بله کومه فیصله نشي غوره کېدی.

وَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا إِنَّكُمْ إِذًا لَّخَاسِرُونَ ﴿٩٠﴾

او وويل مشرانو هغو چې کافران شوي وو له قومه د دغه شعيب: قسم دی خامخا که متابعت وکړ تاسې د شعيب؛ بېشکه تاسې به په دغه وخت کې خامخا له زيان کارانو يئ.

فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿٩١﴾

نو ونيول دوی زلزلې (په توره تياره کې او جبرئيل هم پرې چيغه وکړه) نو وګرځېدل دوی (ګهيځ -سهر وختي) په کورونو خپلو کې مړه پرمخي پراته.

تفسير: د متعددو آيتونو له مجموعې څخه ظاهريږي، چې پر دوی باندې درې ډوله عذابونه لېږلي شوي وو: (١): ظُلّه. (٢) صيحه. (٣) رجفه، يعنې ډومبې ورېځې پر دوی باندې د ځمکې مخ داسې تک تور وګرځاوه؛ چې په هغه کې د اور بخرکي او لمبې هم وې، بيا د آسمان له لوري سخت ويروونکي زړه خوځوونکي غږونه واورېدل شول، او سم له هغه سره د ځمکې له خوا سخته زلزله هم څرګنده (ښکاره) شوه (ابن کثير).

الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا فِيهَا ۚ الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَانُوا هُمُ الْخَاسِرِينَ ﴿٩٢﴾

هغه کسان چې تکذيب يې کړی وو د شُعيب (داسې هلاک شول) لکه چې له سره نه وو اوسېدلي په دغو (کورونو خپلو) کې، هغه کسان چې تکذيب يې کړی وو د شُعيب؛ وو همدوی زيان کاران (چې په دنيا کې مردار او په عُقبا کې په انګار شول).

تفسير: دوی شُعيب عليه السلام او تابعان يې له کلي ځنې په ويستلو سره ويرولي وو، خو دوی نه پخپله ژوندي پاتې شول، او نه د دوی هغه کلي او ښارونه ودان، او هغو خلقو چې تل به يې ويل: «د شُعيب عليه السلام اتباع خراب کېدونکي دي»؛ هغوی پخپله وران، خائبان او خاسران شول، کله چې شعيب عليه السلام د عذاب علائم وليدل، نو د خُروج اراده يې وکړه لکه چې فرمايي:

فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۖ فَكَيْفَ آسَىٰ عَلَىٰ قَوْمٍ كَافِرِينَ ﴿٩٣﴾

نو مخ وګرځاوه شعيب له دوی څخه او وويل: ای قومه ځما ! خامخا په تحقيق رسولي دې ما تاسې ته پيغامونه د رب خپل، او پند مې درکړ تاسې ته (پس تاسې ايمان را نه ووړ)؛ نو څرنګه به زه خپه شم پر (هلاک کېدلو د) قوم کافرانو (بلکه نه خپه کېږم).

تفسير: يعنې اوس هغوی هلاک شوي دي، نو هغو پسې غمجن کېدل او ارمان کول فائده نه رسوي، ځکه چې دوی ته ډېر مؤثر پندونه ورکړی شوي دي، مګر دوی هيڅ يوې خبرې ته غوږ کېنښود، او له هيڅا څخه يې وانه وړېده.

وَمَا أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّبِيٍّ إِلَّا أَخَذْنَا أَهْلَهَا بِالْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُونَ ﴿٩٤﴾ ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ السَّيِّئَةِ الْحَسَنَةَ حَتَّىٰ عَفَوا وَّقَالُوا قَدْ مَسَّ آبَاءَنَا الضَّرَّاءُ وَالسَّرَّاءُ فَأَخَذْنَاهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٩٥﴾

او نه وو لېږلی مونږ په هيڅ قريه (ښار) کې هيڅ نبي (چې دوی يې تکذيب کړی وي) مګر وبه نيول مونږ اهل د هغې (قريې) په سختيو (لکه فقر) او تکليفونو (لکه مرض) لپاره د دې چې دوی زاري

(عاجزي) وکړي (ايمان راوړي). بيا بدله کړه مونږ په ځای د بدۍ (سختۍ) کې نيکې (آساني) تر هغه پورې چې ډېر شول (هم يې مال هم يې سړي) او وويل دوی (په ناشکرۍ) چې: په تحقيق رسېدلې وې پلرونو ځمونږ ته سختي او خوشالي (په شان ځمونږ، او دغه د زمانې عادت دی، کله چې دوی ذاهل او غافل شول)؛ نو ونيول مونږ دوی ناڅاپه او دوی به نه پوهېدل (چې پر مونږ به عذاب راشي).

تفسير: «که بنده ته په دنيا کې د ګناه سزا ورسېږي؛ نو هيله (اميد) دی چې دی به توبه وکړي، او کله چې له ګناه څخه ضرر و نه وينې، يعنې په نتيجه کې يې نيکي وليده؛ نو دغه د الله تعالى هېرول (او په تأخير غورځول او استدراج) دی، نو دلته د هلاکت وېره ده، لکه چې څوک زهر وخوري، سمدلاسه کانګې (قی) وکړي؛ نو د روغتيا هيله (اميد) پيدا کيږي، او که په معده کې يې پاتې شي، نو کار له کاره تيريږي.

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰۤى اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنْ كَذَّبُوْا فَاَخَذْنٰهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٩٦﴾

او که خلقو د دې کليو (ښارونو) ايمان راوړی وی، او تقوی يې (غوره) کړې وی؛ نو خامخا پرانيستلي به وی مونږ پر دوی باندې (دروازې د) برکتونو له لوري د آسمانه (د باران په اورولو) او له (لوري) د ځمکې (په زرغونولو د محصولاتو)، وليکن نسبت د دروغو وکړ دوی (انبياوو ته)؛ نو ونيول مونږ هغوی په سبب د هغو چې وو دوی چې کول به يې (د کفر او معاصيو څخه).

تفسير: يعنې مونږ له بندګانو سره څه ضد او دښمني نه لرو، هغه کسان چې په الهي عذاب کې اخته کيږي، دا د هغو د اعمالو نتيجه ده، که دغو خلقو ځمونږ رسولان قبول کړي وی، او د حق په مقابل کې يې غاړه ايښې وی، او له کفر او تکذيبه او له نورو مناهيو څخه يې ځانونه ژغورلي (بچ کړی) وی، او د تقوی لار يې غوره کړې وی؛ نو مونږ به دوی د آسمان او د ځمکې په برکاتو معمور کړي وی.

اَفَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰۤى اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا بَيَاتًا وَّهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿٩٧﴾ اَوَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰۤى اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا ضُحًى وَّهُمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿٩٨﴾

آيا نو په امن کې دي (بلکه مأمون نه دي) اهل د قريو (ښارونو) له دې نه چې راشي دوی ته عذاب ځمونږ د شپې، حال دا چې دوی اوده (غافل) وي. آيا په امن کې دي اهل د قريو (ښارونو) له دې نه چې راشي دوی ته عذاب ځمونږ په ځابنست کې، حال دا چې دوی په لوبو مشغول وي.

تفسير: يعنې کله چې په عيش عشرت او آرامۍ کې غافل پراته وي، يا په دنيوي چارو کې او لهو او لعبو کې مشغول وي، نو په داسې وخت کې الهي عذاب دوی ناڅاپه چار چاپېر راګير کړي، له دغې خبرې څخه دا خلق ولې بې خوفه او بې فکره شوي دي؟ حال دا چې د کومو اسبابو په بناء چې پر پخوانيو اقوامو د الله تعالى عذاب نازل شوی دی، هغه په دوی کې هم شته، يعنې کفر، تکذيب او له سيد الأنبياء صلى الله عليه وآله وصحبه وسلم سره مقابله او مجادله د دوی په طبايعو کې هم مرکوز او متمکن دي.

اَفَاَمِنُوْا مَكْرَ اللّٰهِ ۚ فَلَا يَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٩٩﴾

آيا نو په امن کې دي دوی (بلکه نه دي) له مکره (ناڅاپه نيولو) د الله، نو نه په امن کيږي له مکره د الله مګر قوم زيانکاران (په کفر او نفاق سره).

تفسير: د الله تعالى هغه ناڅاپه نيول چې له دنيوي خوشالي او عيش څخه وروسته واقع کيږي؛ همغه يې په «مکر الله ـ د الله تعالى چال» سره تعبير وفرمايل، او همغه خلق د الله تعالى له ناڅاپه نيولو څخه غافل او بې فکره کيږي، چې په عيش او تنعم کې اخته شوي دي، او د دوی همدغه اعمال دوی په همغه لوري تهل وهلي دي، د مؤمنانو شان دا دی چې؛ دوی په هيڅ حال کې د الله تعالى له ياده نه غافليږي.

أَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ أَهْلِهَا أَنْ لَوْ نَشَاءُ أَصَبْنَاهُمْ بِذُنُوبِهِمْ ۚ وَنَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾ تِلْكَ الْقُرَىٰ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَائِهَا ۚ وَلَقَدْ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ ۖ فَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا بِمَا كَذَّبُوا مِنْ قَبْلُ ۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ الْكَافِرِينَ ﴿١٠١﴾

آيا نه ده ظاهر (ښکاره) شوې (بلکه ښکاره ده) هغو کسانو ته چې وارثان شوي دي د ځمکې (او اوسي په کې) وروسته (له هلاک) د اهل د هغې دا خبره که اراده فرمايلې وی مونږ (د نيولو د دوی)؛ نو رسولی به وو مونږ دوی ته (عذاب) په سبب د ګناهونو د دوی سره (لکه چې مو معذب کړي دي پخواني خلق)، او مهر به ولګوو پر زړونو د دوی؛ نو دوی به نه اوري (حق او نافع وعظ په اورېدلو سره). دغه قريې (او ښارونه د تېر شويو امتونو) بيانوو مونږ پر تا له ځينو حالاتو د دې (قريو)، او هرومرو (خامخا) په تحقيق راوړې وې دوی ته رسولانو د دوی ښکاره معجزې؛ نو نه وو (له شانه) د دوی چې ايمان راوړي په هغه شي چې نسبت د دروغو يې (ورته) کړی وو پخوا (له همدغو معجزاتو)، همدارنګه (لکه مهر ايښودل پر زړونو د پخوانيو کفارو) مهر لګوي الله په زړونو د کافرانو باندې.

تنبيه: له ﴿وَلَقَدْ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ﴾ څخه معلومه شوه، هغه انبياء عليهم السلام چې قوم د نوح ـ عاد ـ ثمود ـ قوم د لوط او اهل مدين او نورو ښارونو او کليو ته مبعوث شوي وو؛ هغوی ګرد د بيّناتو (ښکاره دلائلو) لرونکي وو، او له واضحو دلائلو معجزاتو سره راغلي وو، نو بيا د هود عليه السلام د قوم دغه وينا چې ﴿يَا هُودُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ﴾ الآيه ـ يواځې د تعنّت او عناد له لارې ده.

وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِمْ مِنْ عَهْدٍ ۖ وَإِنْ وَجَدْنَا أَكْثَرَهُمْ لَفَاسِقِينَ ﴿١٠٢﴾

او نه دی موندلی مونږ لپاره د زياترو د دوی له (وفا په) عهد، او بېشکه موندلي دي مونږ زياتره د دوی خامخا؛ فاسقان (ماتوونکي د عهد).

تفسير: له عهد څخې ممکن دی چې عام عهدونه مراد وي، يا به خاص د ﴿أَلَسْتُ﴾ عهد اراده کړی شوي وي، يا به هغه عهد وي چې د مصائبو او سختيو په وخت کې يې کوي، چې دغه سختي که له ما څخې لرې شي؛ نو زه به ايمان راوړم، يا به په سمه لاره درومم، لکه چې فرعونيانو به ويل: ﴿لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿١٣٤﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ إِلَىٰ أَجَلٍ هُمْ بَالِغُوهُ إِذَا هُمْ يَنْكُثُونَ﴾ (٩ جزء د الأعراف سورت (١٣٤) ايت (١٦) رکوع).

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ فَظَلَمُوا بِهَا ۖ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ ﴿١٠٣﴾

بيا ولېږه مونږ وروسته له دغو (رسولانو) موسى سره له (نهو) معجزو ځمونږ فرعون (د مصر) او اتباعو د ده ته؛ نو ظلم وکړ (کافر شول) دوی په هغو (معجزاتو)، نو وګوره څرنګه شو عاقبت (آخره خاتمه) د مفسدينو.

وَقَالَ مُوسَىٰ يَا فِرْعَوْنُ إِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٠٤﴾ حَقِيقٌ عَلَىٰ أَن لَّا أَقُولَ عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقَّ ۚ قَدْ جِئْتُكُم بِبَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَرْسِلْ مَعِيَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿١٠٥﴾

او وویل موسی: ای فرعونه ! بېشکه زه رسول یم له (لوري) د رب د عالمیانو. قائم ثابت ټینګ ولاړ یم پر دغه خبره چې نه وایم پر الله مګر (وایم) حق (رښتیا)، په تحقیق راوړې ده ما تاسې ته څرګنده (ښکاره) معجزه له (لوري د) رب ستاسې، نو ولېږه له ما سره بني اسرائیل (چې زه یې بوځمه شام ته).

تفسیر: اکثرو مفسرینو د «حقیق» معنی په جدیر «لایق» یعنې په وړ سره کړې ده، د (علی) معنی یې په (باء) سره اړولې ده، یعنې «ځما له شانه سره همدغه خبره وړ ده؛ چې د الله تعالی په لوري کومه ناحقه او غلطه خبره ونه وایم».

ځینې د (حقیق) معنی په (حریص) کوي، لیکن محقّق شیخ الهند «رحمه الله» د «حقیق» معنی «قایم او ثابت» فرمایلې ده، چې مطلب یې داسې کیږي، چې بې له ادنی تزلزل او تذبذب په ډېرې مضبوطی او استقلال سره پر دې قائم او ثابت یم، چې بې له رښتیا هیڅ یو شی له خپلې ژبې ونه باسم، او د الله تعالی پیغام بې له تزیید او تنقیص څخه تاسې ته درورسوم، او ستاسې د تخویف او تکذیب له سببه لږ څه متردد او متذبذب نه شم.

قَالَ إِن كُنتَ جِئْتَ بِآيَةٍ فَأْتِ بِهَا إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿١٠٦﴾ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿١٠٧﴾

وویل (فرعون): که یې ته (ای موسی !) چې راوړې دې وي کومه معجزه؛ نو راحاضره (راوړاندې) کړه هغه (ماته) که یې ته له صادقانو (رښتینو په دې دعوی خپله کې). نو وغورځوله (موسی) همسا خپله؛ نو له واره هغه اژدها وه ښکاره (چې په کې نه وو شک د چا).

وَنَزَعَ يَدَهُ فَإِذَا هِيَ بَيْضَاءُ لِلنَّاظِرِينَ ﴿١٠٨﴾

او وویست (موسی ښی) لاس خپل (چې یې په ګرېوان کې کین تخرګ ـ ترخ ته وروړی وو)؛ نو ناڅاپه هغه تک سپین (ځلیدونکی د تعجب موجب) وو لپاره د کتونکو.

تفسیر: یعنې خپل لاس یې په خپل ګرېوان کې ننویست، او په خپل تخرګ (ترخ) کې یې ټینګ ونیو، او بېرته یې وویست؛ نو ګردو (ټولو) مخلوقاتو په خپلو رنړو سترګو سره ولید، چې لاس یې فوق العاده تک سپین، ډېر ځلېدونکی نوراني وو، چې د لمر په رنړا غالب شو، دغه رنړا او ځلېدل د برص د ناروغۍ یا د بل کوم شي څخه نه وو.

قَالَ الْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ إِنَّ هَٰذَا لَسَاحِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٩﴾

وویل مشرانو له قومه د فرعونه (سره له فرعونه) چې بېشکه دا (موسی) خامخا جادوګر دی ډېر پوه (چې له همسا نه اژدها او له لاس نه لمر جوړوي).

تفسیر: معلومیږي چې فرعون د موسی علیه السلام له معجزاتو څخه ډېر زیات وویرېده، او ګرد (ټول) خلق یې راغونډ کړل، او لومړی ده پخپله بالذات (کما في الشعراء) او بیا د ده له لوري د ده نورو مشرانو خپلې آراء داسې اظهار کړې؛ چې «معاذ الله» موسی علیه السلام کوم لوی جادوګر او ماهر ساحر دی، ځکه هغه خوارق چې له موسی علیه السلام څخه ظاهر او څرګند شوي وو، د دوی له حسّیاتو سره سم د هغو لپاره له جادو او سحر څخه پرته (علاوه) بل کوم بهتر تعبیر او توجیه دوی نشوه موندلی.

يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُمْ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿١١٠﴾

غواړي (موسى) دا چې وباسي تاسې (اى قبطيانو !) له ځمکې ستاسې (چې مصر دى)، نو (وويل فرعون مشرانو ته:) څه امر (مصلحت او مشوره) کوئ تاسې؟ !

تفسير: يعنې موسى د سحر او د کوډګرۍ په عجيبې او غريبې نندارې سره خلق خپل لوري ته متمائل کوي، او په پاى (آخر) کې په وطن کې خپل اثر او اقتدار زياتوي، او د سبطيانو د آزادۍ او حمايت په نامه ګرد (ټول) قبطيان چې د دې وطن اصلي اوسيدونکي دي؛ د دوى له ملک او وطن (مصر) څخه بې برخې کوي، تاسې دغه ګرد (ټول) حالات تر خپلو سترګو لاندې ونيسئ ! او بيا مشوره راته راکړئ ! چې څه وکړو.

قَالُوا أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَأَرْسِلْ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ ﴿١١١﴾ يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٍ ﴿١١٢﴾

وويل (قبطيانو فرعون ته): مهلت ورکړه دغه (موسى) ته او ورور د ده ته، او ولېږه په ښارونو کې راټولوونکي (د ساحرينو). چې راولي تاته هر ساحر (جادوګر) ډېر پوه (ماهر جادوګر).

تفسير: د جرګې او مشورې په پاى (آخر) کې دغه خبره د ګردو (ټولو) له لوري ومنله شوه، چې له فرعون ځنې دې استدعاء وکړه شي، چې د دغو دواړو (موسى او هارون) په معامله کې له سره تلوار ونه کړه شي، د دوى د ماتولو لپاره ډېره ښه او مؤثر ځواب داسې کېدى شي، چې محصلان دې ګردو (ټولو) ولايتو او حکومتونو (پرګنو) ته ولېږل شي، او له ګردو (ټولو) ملکو څخه دې ډېر ښه کوډګران او خورا (ډېر) لوى ساحران او جادوګران چې په سحر کې له ده ځنې له حده تېر ماهر (سحّار) وي؛ سره راټول کړل شي، نو بيا دې د دوى له هغو سره يوه ښه مقابله وشي، لکه چې همداسې وکړل شول.

وَجَاءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوا إِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ الْغَالِبِينَ ﴿١١٣﴾

او راغلل ساحران (جادوګران) فرعون ته، وويل دغو جادوګرانو (فرعون ته) چې: آيا بېشکه وي به مونږ ته خامخا ښه مزدوري که شو مونږ همدا مونږه غلبه کوونکي (پر موسى).

تفسير: د فرعون ساحرينو د ﴿إِنَّ لَنَا لَأَجْرًا﴾ په ويلو سره په لومړني مجلس کې دغه خبره څرګنده (ښکاره) کړه چې د انبياوو عليهم السلام لفظ ﴿قُلْ مَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ﴾ وي، او دوى د کومې کسبګرۍ او کاروبارګرۍ طائفې څخه نه دي.

قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ لَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿١١٤﴾

وويل (فرعون ساحرانو ته): هو ! (وي به تاسې لره مزدوري) او بېشکه تاسې به خامخا اوسئ ځما له مقربينو څخه (په مرتبه کې).

تفسير: يعنې مزدوري څه شى دى؟ هغه خو هرومرو تاسې ته درکوله کېږي، برسېره پر دې تاسې ځما د دربار په مقرّبينو کې هم داخليدونکي يئ.

قَالُوا يَا مُوسَى إِمَّا أَن تُلْقِيَ وَإِمَّا أَن نَّكُونَ نَحْنُ الْمُلْقِينَ ﴿١١٥﴾

وويل جادوګرانو چې اى موسى ! يا خو ته وغورځوه (همسا خپله) او يا دا دى چې شو مونږ هم دا مونږ (رومبي) غورځوونکي؟ (د پرېږو او همسا ګانو خپلو).

قَالَ أَلْقُوا ۖ فَلَمَّا أَلْقَوْا سَحَرُوا أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَاءُوا بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ﴿١١٦﴾

وويل موسى ساحرانو ته (تکرّماً تسامحاً معتمِداً على الله) چې وغورځوئ تاسې خپل پرې او همسا ګانې، نو کله چې وغورځول دوی؛ نو جادو يې وکړ پر سترګو د خلقو او وويرول دوی (دا خلق)، او راتله وکړه دوی په جادو لوی سره.

تفسير: يعنې د کوډو او سحر په زور د ګردو نندارې کوونکو سترګې وترلې شوې، او پر ټولو حيرت طاري شو، او عام خلق وويرېدل، په بل آيت کې راغلي دي، چې هغوی خپل پرې او همسا ګانې پر ځمکه وغورځولې، چې د هغو په اثر په هغې ځمکې کې پرته له ځغليدونکو او يو په بل باندې سوريدونکو مارانو ځنې بل هيڅ شی په نظر نه راته، ﴿يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ﴾، له دغو آيتونو ځنې ښکاره شوه چې د فرعون ساحرين په دغه وخت کې کومه شعبذه چې ښوولې؛ په هغې کې له سره د ماهيّت قلب نه دی واقع شوی، بلکه هغه تش يو تخيّل او نظر بندي وه.

وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۖ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿١١٧﴾ فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١١٨﴾ فَغُلِبُوا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوا صَاغِرِينَ ﴿١١٩﴾ وَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِينَ ﴿١٢٠﴾ قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٢١﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَارُونَ ﴿١٢٢﴾

او وحي (حکم) مو ولېږه موسی ته داسې چې وغورځوه ته همسا خپله (بيا ده وغورځوله او ښامار شو)، نو ناڅاپه دغې همسا ښوی تېرول (نغړودل) هغه شيان چې جوړ کړي وو دغو (جادوګرانو په جادو سره) نو ثابت (او د پاسه) شو حق، او باطل (ورک) شو هغه څه چې وو دوی چې کول به يې. نو مغلوب شول دا (ساحران) په هغه ځای کې او وګرځېدل دوی خوار سپک. او وغورځول شول ساحران په دې حال کې چې سجده کوونکي وو. وويل جادوګرانو ايمان مو راوړی دی په رب د عالميانو. (په) رب د موسی او (رب د) هارون.

تفسير: د ﴿وَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ﴾ لفظ دا رابنيي، چې داسې يو قوي حال پر دوی باندې طاري شوی وو، چې د هغه په ليدلو سره دوی ته پرته له استسلام څخه بله چاره نشوه پاتې، دلته د الهي رحمت څه ستاينه او توصيف وکړ شي؟ وګورئ هغه خلق چې همدا اوس د الله تعالى له انبياوو عليهم السلام سره د جنګ او جګړې او مقابلې لپاره درېدلي وو؛ وروسته له دې نه چې خپل سرونه يې له سجدې څخه پورته کړل، أولياء الله شوي وو، (چې هغه همدغه ساحران د فرعون وو).

﴿قَالُوا آمَنَّا﴾ الآيه ـ «وويل جادوګرانو: ايمان مو راوړی دی په رب د عالميانو، رب د موسی او رب د هارون»، څرنګه چې فرعون خپل ځان ته ﴿أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ﴾ ويل، نو دلته له ﴿بِرَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ سره د ﴿رَبِّ مُوسَىٰ وَهَارُونَ﴾ ويلو ته هم ضرورت پيدا شو، په دې سره دغه لوري ته هم اشاره وشوه، چې بېشکه د ګرد جهان پروردګار او پالونکی همغه ذات دی چې د خپل خاص قدرت سره يې موسی او هارون عليهما السلام بې د ظاهري اسبابو له توسط څخه د دنيا پر لويو متکبرينو په داسې يو محيّر العقول صورت على رؤوس الأشهاد غالب او بريالي (فتحمند) وګرځول.

قَالَ فِرْعَوْنُ آمَنتُمْ بِهِ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّ هَٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوهُ فِي الْمَدِينَةِ لِتُخْرِجُوا مِنْهَا أَهْلَهَا ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿١٢٣﴾

وويل فرعون: آيا ايمان راوړ تاسې په دغه (موسی) پخوا له هغه چې اذن (اجازه) وکړم زه تاسې ته، بېشکه دا کار خامخا يو مکر (فرېب) دی چې مکر (بنا) کړی دی تاسې هغه په دې ښار

کې؛ لپاره د دې چې وباسئ تاسو له دې ښاره اهل د دې، نو ژر به پوه شئ تاسې (چې زه څه درسره کوم؟).

تفسیر: یعنې دغه تاسې خو د کوډګرانو (ساحرانو) یوه غوره جرګه (اتحادیه) یئ، غالبا موسی ستاسې لوی استاذ دی، چې هغه مو د مخه استولی دی، او بیا تاسو ګردو هغه ته ځانونه پرې او مغلوب کړل، چې عام خلق ترې متأثر او وډار شي، د دغې ژورې پلمې (پلان) او پټ سازش نه ستاسې مقصود دا دی چې د دغه وطن اصلي اوسیدونکي قبطیان ترې وباسئ، او تاسې سبطیان او اسرائیلیان په خپله پرې متصرفان شئ، او د مصر سلطنت اشغال کړئ، دغه وینا فرعون ځکه وکړه، چې پر خپلې دغې لویې ماتې پرده واچوي، او له خلقو څخه ناپوهان او بېراګان (بې عقله) جوړ کړي: ﴿فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ فَأَطَاعُوهُ﴾ مګر له هغه شي نه چې فرعون او فرعونیان ویرېدل؛ بالآخره همغه د الله تعالی په تقدیر ورپېښ شو: ﴿وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُوا يَحْذَرُونَ﴾ (٢٠ جزء د القصص (۶) آیت (١) رکوع).

لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ ثُمَّ لَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٢٣﴾ قَالُوا إِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿١٢٤﴾

خامخا به پرې کړم زه هرومرو (خامخا) لاسونه ستاسې او پښې ستاسې سره مخالفې، بیا به خامخا په دار کړم زه ضرور تاسې ټول. وویل جادوګرانو: بېشکه مونږ په لوري د رب خپل بېرته ورتلونکي یو (پس له مرګه نو پروا نه لرو، ستا له دغه تعذیبه).

تفسیر: ساحرین د توحید او د لقاء الله د تمنّا په جذبه کې وو، جنت او دوزخ ګواکې د دوی سترګو ته حاضر وو؛ نو ځکه دوی له دغو ویرولو او ډارولو څخه بیخي بې خوفه او بې پروا شوي وو، دوی په زړورتیا او لوړه وینا سره وویل: «مونږ هیڅ پروا نه کوو، که ته هره سزا چې مونږ ته راکړې؛ هغه پر مونږ تېریږي، او وروسته له هغه مونږ د پاک الله دربار ته حاضریږو، ای فرعونه ! ته دې خپل پت او سیاست وساته ! پر مونږ باندې د اخروي عذاب په مقابل کې دنیوي عذاب ډېر آسان دی، د پاک الله د رضاء او خوښې او رحمت په لاره کې ډېر لوی لوی تکالیف او مصائب هم د عاشقانو لپاره آسان دي.

وَمَا تَنقِمُ مِنَّا إِلَّا أَنْ آمَنَّا بِآيَاتِ رَبِّنَا لَمَّا جَاءَتْنَا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ ﴿١٢٦﴾

او عیب نه ګڼې (ته ای فرعونه !) له مونږ مګر دغه کار چې ایمان راوړی دی مونږ په آیتونو د رب خپل کله چې راغله مونږ ته، ای ربه ځمونږ ! راتوی کړه پر مونږ صبر، او مړه کړه مونږ په داسې حال کې چې مسلمانان یو (یعنې خاتمه مو په اسلام کړه).

وَقَالَ الْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ أَتَذَرُ مُوسَىٰ وَقَوْمَهُ لِيُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَيَذَرَكَ وَآلِهَتَكَ ۚ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبْنَاءَهُمْ وَنَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ ۚ وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَاهِرُونَ ﴿١٢٧﴾

او وویل مشرانو له قوم د فرعون (فرعون ته) آیا (ته) پرېږدې موسی او قوم د ده لپاره د دې چې فساد وکړي دوی په ځمکه (په ملک د مصر) کې، او پرېږدي (عبادت) ستا او د خدایانو (بتانو) ستا؟ وویل فرعون: ژر به ووژنو مونږ ځامن د دوی (چې نسل یې ورک شي) او ژوندي به پرېږدو مونږ ښځې (لونې) د دوی (خپل خدمت ته)، او بېشکه مونږ (قبطیان) د پاسه د دغو (سبطیانو) زورور یو.

تفسير: ﴿وَيَذَرَكَ وَآلِهَتَكَ﴾ : «او پرېږدي عبادت ستا او د معبودانو «بتانو» ستا؟»، فرعون خپل ځان لوی معرفي کړی وو، غالباً ده د دغه موهوم «علويّت» د ثبوت لپاره څه ادنی ارباب هم تجويز کړي وو، لکه چې د ﴿وَآلِهَتَكَ﴾ کلمه د همدې مطلب مؤيده ده.

ځينې وايي چې: دغه بتان د غوايي او نورو اشياوو مجسّمې وې، ځينې وايي چې: په دغه کلمه يې لمر او ستوري اراده وو، د ځينو په نزد فرعون خپلې مجسمې روغې کړې وي، او د عبادت لپاره يې پر خلقو ويشلې وې، هر شی چې وو بلا ورپسې، خو د فرعون مقصدا دا وو ، چې ګرد (ټول) خلق ده ته (رب أعلى) او نورو ته (أدنى رب) ووايي، او په ﴿مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرِي﴾ ويلو سره به يې د الله تعالى د وجود نفي کوله ـ (العياذ بالله).

قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا بِاللَّهِ وَاصْبِرُوا ۖ إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ۖ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٨﴾

وويل موسى قوم خپل ته (لپاره د تسلی) مدد وغواړئ له الله څخه، او صبر کوئ (په طاعت او مصيبت او له معصيت)، بېشکه چې دغه ځمکه خاص الله لره ده، وارث ګرځوي (الله) د دې (ځمکې) هغه څوک چې اراده وفرمايي له بندګانو خپلو څخه او عاقبت (ښه خاتمه) پرهېزګارانو ته (له کفر او معاصي څخه) ده.

قَالُوا أُوذِينَا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَأْتِيَنَا وَمِنْ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ۚ قَالَ عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٢٩﴾

وويل بني اسرائيلو (موسى ته) چې: ايذاء رسولې شوې ده مونږ ته پخوا له هغه چې راغلی وې ته (ای موسی !) مونږ ته، او وروسته د هغه چې راغلې ته مونږ ته، وويل (موسى): نژدې ده چې رب ستاسې هلاک کړي دښمن ستاسې، او خليفه کړي تاسې په دغې ځمکې (ملک د مصر يا شام کې پس له هلاکه د قبطيانو)؛ بيا به وګوري (الله) چې څرنګه عمل کوئ تاسې (شکر کوئ که کفران، طاعت کوئ که عصيان؟ چې هغسې جزا درکړي).

تفسير: شاه صاحب وايي چې: «دغه کلام د مسلمانانو د آورولو لپاره نقل شوی دی، دغه سورت مکي دی، او په دغه وخت کې مسلمانان هم داسې مظلومان وو، د نورو د خبرو په منځ کې يې همداسې يو زبړی او بشارت دوی ته واوراوه.

وَلَقَدْ أَخَذْنَا آلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِينَ وَنَقْصٍ مِنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣٠﴾ فَإِذَا جَاءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ قَالُوا لَنَا هَٰذِهِ ۖ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا بِمُوسَىٰ وَمَنْ مَعَهُ ۗ أَلَا إِنَّمَا طَائِرُهُمْ عِنْدَ اللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣١﴾

او خامخا په تحقيق نيولي وو مونږ قوم د فرعون په کلونو د قحطی سره او په نقصان سره د مېوو؛ لپاره د دې چې پند واخلي دوی. نو کله چې به راغله دوی ته حسنه (ښېګڼه «فائده» پراخي او غنا) نو ويل به دوی چې مونږ لره ده هم دا (يعنې له مونږه سره لايقه ده دغه ښېګڼه «فائده») او که وبه رسېدله دوی ته سيئه (کومه بدحالي لکه قحط او فقر) نو بدفالي به يې نيوله په موسی باندې او په هغه چا چې وو به له ده سره (له مسلمانانو)، واورئ ! خبردار شئ ! بېشکه همدا خبره ده چې

سبب د بدفالي د دوی په نزد د الله دی، وليکن زيات د دوی نه پوهيږي (په دې چې سبب يې د دوی اعمال دي).

وَقَالُوا مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِ مِنْ آيَةٍ لِتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ ﴿١٣٢﴾

او ويل به دوی (موسی ته) هر شي چې راوړې ته مونږ ته هغه (شی) له دليل (معجزې) څخه لپاره د دې چې جادو وکړې ته پر مونږ باندې په هغه سره؛ نو نه يو مونږ تا لره تصديق کوونکي (په نبوت).

تفسير: د موسی عليه السلام د معجزو او د نبوت د دلائلو د ليدلو په وخت کې به دوی داسې ويل چې: هر څومره سخت جادو چې ته پر مونږ وکړې، او سم له خپله خياله سره هومره معجزې چې مونږ ته راوښيي؛ مونږ په هيڅ ډول ستا خبرې نه منو.

فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ آيَاتٍ مُفَصَّلَاتٍ فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا مُجْرِمِينَ ﴿١٣٣﴾

نو ولېږل مونږ (آفتونه په وار وار) پر دوی طوفان (د اوبو يا د مړک) او ملخان او سپرې (يا ورږې يا کنې يا بروړې) او چونګښې (چيندخې) او وينې، حال دا (چې دغه شيان) دلائل وو واضح سره ببل ببل کړی شوي نو تکبر وکړ دوی او وو دوی قوم ګناهګاران.

تفسير: پس ولېږل مونږ پر دغو باندې پنځه آفتونه وار په وار:

(١): د باران او سيلاو طوفان وو، چې اوه شپې او ورځې به باران پرله پسې پرې ورېده، چې د قبطيانو په کورونو او فصلونو کې دومره اوبه ودرېدې؛ چې په ولاړې به يې تر مری رسېدې، نو دوی به شپه او ورځ ولاړ وو، او هلکان به يې په هسکو (وچتو) ځايونو کې کېنولي وو، او د سبطيانو کوټې به هم ورسره پيوستې وې، او په هغو کې به يو ټکی اوبه هم نه ننوتلې، يا د طاعون له وجې د موت طوفان علی اختلاف الأقوال.

(٢): ملخ وو، چې دا هم يوه هفته پرې مسلط وو، او د دوی فصلونه او باغونه او د کوټو تيران او لاړي يې ټول وخواړه، او د سبطيانو په کورونو کې يو هم نه وو ننوتلی.

(٣): کنې يا ورږې يا پياده ملخ وو، چې د دوی په طعام او په شرابو او په کتغ او نګولي کې به لوېدل، او په جامو کې به يې ګرځېدل، او چيچل به يې، او دا هم يوه هفته وو، له «قمل» څخه مراد بروړه «بټوکه، پټکه» منګور (خمنډک) او کنې وي لکه چې شيخ الهند «رحمه الله» هم ليکلي دي، يا سپرې يا هغه نور چنچيان دي؛ چې په غَلو، دانو، او مېوو «په تېره بيا په ګنيو» کې پيدا کيږي، او په هغو سره غله او نور خرابيږي، يا په بدن کې سپرې يا په کالیو (کپړو) کې او بزې (کويه) لويږي، يعنې د دوی په بدنونو او کالیو (کپړو) کې خوځندې او سپرې ولوېدې، او په غَلو کې يې بټوکې څرګندې شوې.

(٤): چونګښې (چيندخې) وې، او دا هم يوه هفته وې، چې په جامو او په طعام او د نګولیو په کټوو کې او په بسترو کې او په خولو د دوی کې په وخت د خبرو به وټې او ننوتې.

(٥) وينې وې، چې اوبه د دوی بيخې وينې شوې، تر دې حده پورې چې که قبطي او سبطي (اسرائيلي) به په يوه لوښي سره جمع شول، نو پر همغه يو جام کې به د سبطي طرفته اوبه او د قبطي طرف ته به وينې وې، او که فرعوني به

د اسرائيلي له خولې اوبه راوويستې، نو د ده په خوله کې به ويني شوې، په دې حال کې چې «دا پنځه واړه نښې وې، ځمونږ د قدرت جدا کړی شوی يو له بله، چې د هرو دوو تر منځه به يوه مياشت فاصله وه، او هره يوه چې به پرې راغله؛ نو ډېرې سختې سختې وعدې به يې وکړې، چې دا آفت را څخه لرې کړه، نو ايمان به درباندې راوړو، بيا چې ترې پورته به شو؛ نو ويل به يې چې: ته ډېر لوی جادوګر يې، پس کبر وکړ دوی او سرکش شول له فرمانه ځمونږ، او وو دوی قوم مجرمان معاندان چې سره له ظهوره د آيتونو هم ايمان نه راوړي».

وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ قَالُوا يَا مُوسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۖ لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿١٣٤﴾

او کله چې واقع شو پر دغو (فرعونيانو) کوم عذاب (له دغو ذکر شويو عذابونو) ويل به دوی: ای موسی ! دعا وکړه لپاره ځمونږ له رب خپل څخه په هغه سره؛ چې وعده يې کړې وه له تا سره، قسم دی خامخا که لرې کړ تا له مونږه دغه عذاب نو خامخا (مونږ) به ايمان راوړو هرومرو (خامخا) په تا او خامخا به ولېږو له تا سره بني اسرائيل (چې ببرته يې خپل وطن ته بوځي).

تفسير: يعنې د دعاء هغه مؤثرې طريقې چې پاک الله تاسې ته درښوولې دي؛ په همغه شان سره دعا وکړه ! يا د ﴿بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ﴾ مطلب دا دی چې د خپل نبوت په وسيله دعا وکړه ! ګواکې د عهد اطلاق پر نبوت وشو، او ممکن دي له ﴿بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ﴾ څخه هغه عهد مراد وي؛ چې انبياوو عليهم السلام په واسطه له اقوامو سره کولې شي، چې که تاسې له کفر او تکذيبه مخ واړوئ؛ نو الهي عذاب به هم له تاسې پورته کيږي. والله أعلم.

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ إِلَىٰ أَجَلٍ هُمْ بَالِغُوهُ إِذَا هُمْ يَنْكُثُونَ ﴿١٣٥﴾

نو کله چې لرې کړ مونږ له دوی څخه دغه عذاب (او مؤخر مو کړ) تر هغې نېټې پورې چې دوی رسيدونکي وو هغې ته؛ ناڅاپه دوی هغه وعده ماته کړه.

تفسير: يا خو له دې مودې څخه تر موت او تر غرقېدلو پورې موده مراد ده، يا ممکن له يوې بلا څخه وروسته د بلې بلا تر راتلو پورې وخت مراد وي.

فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَاهُمْ فِي الْيَمِّ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا غَافِلِينَ ﴿١٣٦﴾

پس اراده د بدل اخيستو وفرمايله مونږ لـه دوی څخه؛ نو غـرق کړل مونږ دوی (ټول له څرمې) په بحر (درياب کې) په سبب د دې چې دوی به تکذيب کاوه په آيتونو ځمونږ، او وو دوی له هغو (آيتونو ځنې) غافلان (چې فکر به يې په کې نه کولو).

تفسير: ځينو مفسرينو د «رجز» معنی په طاعون سره کړيده، لکه چې په ځينو احاديثو کې هم ددې لفظ اطلاق پر طاعون سره شوی دی، ليکن اکثرو مفسرينو دغه آيتونه د پخوانيو آيتونو بيان ګرځولي دي.

وَأَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِينَ كَانُوا يُسْتَضْعَفُونَ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا

او وروسته له پخوانيو قبطيانو څخه په ميراث ورکړه مونږ هغه قوم (د بني اسرائيلو) ته چې وو دوی چې کمزوري ګڼل کېدل په مشرقي (اطراف د) ځمکې او مغربي (اطراف د) ځمکې هغې چې برکت اچولی وو مونږ په هغې کې (چې شامات دي).

تفسير: د اکثرو مفسرينو په نزد له دغې ځمکې څخه مراد د (شام) ملک دی، چې په هغه کې الله تعالی ظاهري او باطني ډېر برکات په ودیعت ایښي دي، ظاهر خو يې دا دی، چې ډېر زرغون، ودان، حاصل خېز، ښکلی، او خورا (ډېر) لوړ او ګټور (مملکت) دی، او باطن يې دا دی چې د ډېرو انبياوو عليهم السلام مسکن ګرځولی شوی دی.

کله چې بني اسرائيل له مصر ځنې ووتل، نو تر يوې مودې پورې د «تيه» په صحرا (ميره) کې سرګردانه ګرځېدل، لکه چې ذکر يې پخوا تېر شو، بيا له يوشع عليه السلام سره ملګري شول، او له «عمالقه» وو سره يې جهاد وکړ، او د خپلو پلرونو د ملک «شام» وارثان وګرځېدل.

ځينو مفسرينو له دغې ځمکې څخه مصر مراد کړی دی، يعنې د فرعونيانو له غرقولو څخه وروسته مونږ بني اسرائيل د مصر د حکومت وارثان وګرځول، چې په آزادۍ او خپلواکۍ او استقلال سره تر يې متمتع شي او ګټور شي، كما قال الله تعالى: ﴿كَمْ تَرَكُوا مِنْ جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٢٥﴾ وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٢٦﴾ وَنَعْمَةٍ كَانُوا فِيهَا فَاكِهِينَ ﴿٢٧﴾ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَاهَا قَوْمًا آخَرِينَ ﴿٢٨﴾﴾ (٢٥ جزء د دخان سورت له (٢٥) تر (٢٨) آيت پورې، (١) رکوع)، ﴿وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ ﴿٥﴾ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُمْ مَا كَانُوا يَحْذَرُونَ ﴿٦﴾﴾ (٢٠ جزء د القصص سورت (٥ - ٦) آيت پورې، (١) رکوع).

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنٰى عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ بِمَا صَبَرُوْا ۭ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهٗ وَمَا كَانُوْا يَعْرِشُوْنَ ﴿١٣٧﴾

او پوره شوه کلمه (او وفاء ته ورسېده وعده) د رب ستا چې نېکه ده (دا احسان) پر بني اسرائيلو په سبب د صبر کولو د دوی (پر ظلمونو د فرعونيانو)، او خرابې کړې مونږ هغه (کلکې ودانۍ) چې وې چې ودانولې به فرعون او قوم د ده، او هغه (پخې پخې ودانۍ) چې وو دوی چې لوړولې به دوی (هغه).

وَجٰوَزْنَا بِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ فَاَتَوْا عَلٰي قَوْمٍ يَّعْكُفُوْنَ عَلٰٓى اَصْنَامٍ لَّهُمْ ۚ قَالُوْا يٰمُوْسَى اجْعَلْ لَّنَآ اِلٰهًا كَمَا لَهُمْ اٰلِهَةٌ ۭ قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿١٣٨﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَاۗءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيْهِ وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٣٩﴾

او تېر کړل مونږ بني اسرائيل له بحره، نو راغلل دوی پر يوه قوم چې تل به ولاړ وو په (عبادت د) بتانو چې وو دوی لره، نو وويل (بني اسرائيلو): ای موسی ! جوړ کړه مونږ لره (هم) يو معبود لکه چې دي دوی لره معبودان، وويل (موسی): بېشکه تاسې داسې يو قوم يئ چې نه پوهېږئ (چې بت پرستي د عاقلانو کار نه دی). بېشکه دغه (بت پرستان) هلاک (او مات) دی هغه دين چې دوی په هغه کې دي، او باطل (غلط) دی هغه عمل چې وي دوی چې کوي (يې).

ترجمه: ځينې وايي چې: دغه د (لخم) د قبيلې سړی وو، او ځينو (کنعاني عمالقه) د دې مصداق ګرځولي دي، وايي چې دغه بتان د غوا په شکل وو، والله أعلم.

کله چې بني اسرائيلو دغه بت پرستي وليده؛ نو موسی عليه السلام ته يې وويل چې: «مونږ ته همداسې بتان جوړ کړه چې مونږ يې عبادت وکړو، لکه چې شته دوی ته بتان چې عبادت يې کوي»، نو وويل موسی عليه السلام: «بېشکه تاسې داسې قوم يئ چې ناپوهي کوئ چې بې له الله د بل چا عبادت هم روا ګڼئ»، يعنې د حق تعالی د عظمت له شان او د ده له تنزيه او تقديس څخه تاسې بيخي ناپوه او جاهلان ښکارئ.

قَالَ أَغَيْرَ اللَّهِ أَبْغِيكُمْ إِلَٰهًا وَهُوَ فَضَّلَكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿١٤٠﴾

وويل (موسى): آيا بې له الله ولټوم زه تاسې ته (بل) معبود؛ حال دا چې هم دغه الله فضيلت درکړی تاسې ته (غوره کړي يې يئ) پر ګردو (ټولو) خلقو (د زمانې خپلې).

وَإِذْ أَنجَيْنَاكُم مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ يُقَتِّلُونَ أَبْنَاءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ ۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَاءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿١٤١﴾

او (ياد کړئ) هغه وخت چې نجات درکړی وو مونږ (نيکونو د) تاسې ته له تابعانو د فرعون، چې رساوه به يې تاسې ته سخت عذاب، چې وژل به يې ځامن ستاسې (چې نسل مو قطع شي)، او ژوندۍ به يې پرېښودې ښځې (لونې) ستاسې (لپاره د خدمت)، او په دغه (عذاب يا نجات يا ګردو کې نعمت يا مصيبت يا) ازمېښت وو له (طرفه د) رب ستاسې څخه ډېر لوی.

تفسير: د دې آيت تفسير په (اول جزء د البقرة په (۴۹) آيت (۶) رکوع) کې پخوا ليکلی شوی دی، هلته دې وکتل شي، يعنې هغه پاک الله چې همدا اوس يې پر تاسې داسې عظيم الشأن احسان فرمايلی دی، نوآيا تاسې ولې د هغه له درباره باغي کېږئ؟ او ترې مخ آړوئ؟ او لرکيو او تيرو او نورو شيانو ته ولې تاسې خپل سرونه ښکته کوئ؟.

وَوَاعَدْنَا مُوسَىٰ ثَلَاثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّهِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ۚ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَارُونَ اخْلُفْنِي فِي قَوْمِي وَأَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ ﴿١٤٢﴾

او (ياد کړه هغه وخت چې) وعده کړې وه مونږ (لپاره د ورکولو د تورات) له موسى سره دېرش شپې، او بيا پوره کړې مونږ هغه دېرش شپې په لسو (نورو)، نو پوره شوه وعده د رب د ده څلوېښت شپې (او ورځې)، او وويل موسى ورور خپل هارون ته: (طور ته د خپل تګ په وخت کې د تورات او مناجات لپاره) چې: خليفه اوسه ځما په دې قوم ځما کې (په غياب ځما) او اصلاح کوه (حال د دوی) او متابعت مه کوه د لارې د مفسدانو.

تفسير: له شروع څخه تر دېرشو ورځو پورې ضروري او لازمي ميعاد به ګرځولی شوی وي، او د څلويښتو ورځو پوره کول به له اختياري او استحبابي حيثيته د اصلي ميعاد د تکميل او تتميم په ډول (طريقه) ټاکلې (مقرر) شوی وي، لکه چې شعيب عليه السلام موسى عليه السلام ته د خپلې لور د ورکولو په وخت کې فرمايلي وو: ﴿قَالَ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ عَلَىٰ أَن تَأْجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ ۖ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِندِكَ ۖ وَمَا أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ﴾ (۲۰ جزء د القصص سورت (۲۷) آيت (۳) رکوع).

او ځمونږ د زمانې ځينې مصنفين وايي چې: اصلي ميعاد همدغه څلوېښت شپې وې، لکه چې د البقرة په سورت کې مذکور دي، او دلته په ﴿فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّهِ﴾ کې ورته اشاره کړی شوې ده، دا د هغو څلوېښتو ورځو د بيان يو اسلوب دی، چې مونږ د دېرشو شپو وعده کړې وه، چې د هغه تتمه لس ورځې نورې هم وې، څو اشاره وشي چې يوه پوره مياشت د «ذي القعدة الحرام» لس شپې نورې هم ورزياتې کړی شوي دي، چې په دغه ډول د «ذي القعدة الحرام» په اوله کې اعتکاف شروع او په لسمه د «ذي الحجة الحرام» تمام شو، لکه چې له اکثرو أسلافو ځنې همدا منقول دي، والله أعلم.

وَلَمَّا جَآءَ مُوسٰى لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهٗ رَبُّهٗ ۙ قَالَ رَبِّ اَرِنِيْٓ اَنْظُرْ اِلَيْكَ ۭ قَالَ لَنْ تَرٰىنِيْ وَلٰكِنِ انْظُرْ اِلَى الْجَبَلِ فَاِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهٗ فَسَوْفَ تَرٰىنِيْ ۚ فَلَمَّا تَجَلّٰى رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ جَعَلَهٗ دَكًّا وَّخَرَّ مُوْسٰى صَعِقًا ۚ فَلَمَّآ اَفَاقَ قَالَ سُبْحٰنَكَ تُبْتُ اِلَيْكَ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٤٣﴾

او کله چې راغی (راورسېد) موسی موعُود وخت ځمونږ ته، او خبرې وکړې له دغه (موسی) سره رب د دغه (موسی)، نو وویل (موسی): ای ربه ځما ! وښیه ماته (ځان خپل) چې زه وګورم تاته، وفرمایل (الله): له سره به ونه وینې ته ما (په دنیا کې)، ولیکن وګوره ته (دې) غره ته که قرار پاتې شو هغه (غر) په ځای خپل کې؛ نو ژر به ته هم وویني ما، نو کله چې ورښکاره شو رب د دغه (موسی) غره ته (د کچې ګوتې په اندازه)؛ نو ویې ګرځاوه هغه (غر) ذرې ذرې (برابر له ځمکې سره خاوره)، او پرېووت موسی بېخوده (له ډېره هیبته نو کله چې په خود شو (موسی نو ویې) ویل: چې پاکې ده تاته (یا الله له ټولو عیبونو)، توبه مې وویسته تاته، او زه اول د مؤمنانو یم (په زمانه خپله په نه لیدلو ستا په دنیا کې).

تفسیر: د ځلوښتو ورځو له پوره کېدو ځخه وروسته حق تعالی په کوم مخصوص او ممتاز رنګ سره موسی علیه السلام ته د مکالمې شرف وروبښه، په دې وخت کې موسی علیه السلام ته د کلام الله د بلا واسطې اورېدلو څخه ډېر زیات خوند او لذت حاصل شو، نو د اشتیاق له کماله د متکلم د لیدلو آرزو او تمنّا یې وکړه، او ترې یې غوښتنه وکړه، چې ﴿رَبِّ اَرِنِيْٓ اَنْظُرْ اِلَيْكَ﴾ ای ربه ! ځما او د خپل تر منځ حجاب او موانع لرې کړه ! او خپله نوراني او دیدار وجه دې بې حجابه راوښیه، چې زه یې یو ځلې لرې ووینم !.

﴿قَالَ لَنْ تَرٰىنِيْ﴾ : وفرمایل الله: له سره به ته ونه وینې ما په دنیا کې، یعنې په دنیا کې به هیڅ مخلوق دغه فاني وجود او فاني قواوې د هغه ﴿ذُوالْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ﴾ او «لم یزل او لا یزال» د لیدلو تحمل ونشي کولی، له دې نه ثابته شوه؛ چې په دنیا کې هر چا ته پخوا له مړ ځخه د الله تعالی د لقاء او دیدار شرف حاصلېدل شرعا ممتنع دي، اګر که عقلا ممکن هم وي، ځمونږ د «أهل السنت و الجماعت» عقیده همدا ده، چې د باري تعالی رؤیت په دنیا کې عقلا ممکن او شرعاً ممتنع الوقوع دی، او په آخرت کې د هغه وقوع په قطعي نصوصو سره ثابت دی.

قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنِّي اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ بِرِسٰلٰتِيْ وَبِكَلَامِيْ ۡ فَخُذْ مَآ اٰتَيْتُكَ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿١٤٤﴾

وفرمایل (الله چې مه خپه کېږه په نه لیدلو ځما او نعمتونه مې یاد کړه) ای موسی ! بېشکه ما غوره کړی یې ته پر ټولو خلقو (د زمانې ستا) په پیغامونو خپلو او تا سره په خبرو کولو خپلو سره (بې له واسطې)؛ نو ونیسه ! هغه څه چې درکړي مې دي تاته او اوسه له شکر ایستونکو.

تفسیر: یعنې که لیدل ونشول خیر دی ! دغه شرف او امتیاز خو لږ شی نه دی؛ چې ته مې خپل رسول وګرځولې، او تورات مې درعطا کړ، او بلا واسطه مې درسره کلام وفرمایه، نو هغومره عطا او احسانات چې ځمونږ له لوري پر تا شوي دي؛ هغه نورو ته وسپاره ! او په هغو بندګانو کې شامل شه ! چې الله تعالی د شاکرینو په امتیاز سره هغوی ممتاز فرمایلي دي.

وَكَتَبْنَا لَهُ فِي الْأَلْوَاحِ مِن كُلِّ شَيْءٍ مَّوْعِظَةً وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَأْمُرْ قَوْمَكَ يَأْخُذُوا بِأَحْسَنِهَا سَأُورِيكُمْ دَارَ الْفَاسِقِينَ ﴿١٤٥﴾

او ليکلي وو مونږ دغه (موسی) ته په تختو (د تورات) کې له هر (دیني) شي څنې موعظه (پند) او تفصیل لپاره د هر شي (له احکامو) (بیا مو وفرمایل موسی ته): پس واخله دا (تختې د تورات) په کامل قوت (زور، عزم، کوښښ) سره او امر (حکم) وکړه قوم خپل ته چې ونیسي (عمل وکړي) په ډېر غوره (احکامو) د دې، ژر به وښیم زه تاسې ته ځای د هستوګنې د فاسقانو.

تفسیر: ځینې وایي چې تورات شریف پر دغو تختو باندې لیکلي شوي وو، د ځینو علماوو خیال داسې دی، چې دغه تختې پر تورات علاوه وې، چې د تورات له نزوله پخوا ورمرحمت شوې وې، په هر حال د الله جل جلاله لیدل ور په برخه نشوه، هغه خپګان، او تأثر چې موسی علیه السلام ته د الله جل جلاله سره د نه لقاء له کبله حاصل شوی وو؛ د هغه تلافي او جبران یې د الواحو په عطا سره وفرمایل، چې په کې هر ډول نصائح او د ګردو (ټولو) ضروري احکامو تفصیلات وو (ابن کثیر).

تنبیه: د ﴿بِأَحْسَنِهَا﴾ له لفظ څخه یې یا خو پر دغې خبرې تنبیه فرمایلې ده، چې په هغو کې ماسوا له (أحسن) څخه بل هیڅ شی نه وو، یا خو هغه احکام چې په کې ورکړی شوي دي، ګرد (ټول) یې في حدّ ذاته ښه دي، مګر ځینې یې له ځینو څخه أحسن دي، مثلا له ظالم څنې انتقام او بدل اخیستل جائز او حسن دي، لیکن صبر کول او بخښل یې عزیمت او احسن دی، ګواکې بني اسرائیل یې د عزایمو او مندوباتو په اکتساب باندې مأمور کړل، چې په هغو کې ډېره سعي او کوښښ وکړي، او د پاک الله پوره امر منونکي شي، او کـه نافرمانـي وکړي؛ نو دوی ته د نافرمانانو کورونه ورښوول کیږي، یعنې په آخرت کې دوزخ، او په دنیا کې تباهي او رسوایي (أعاذنا الله منهما).

ابن کثیر او بغوي او ځینو نورو د نافرمانانو له کورونو څنې مصر یا شام مراد کړی دی، چې د نافرمانانو فرعونیانو او عمالقه وو ملکونه وو؛ نو په دغه تقدیر به دغه آیت د بني اسرائیلو لپاره بشارت وي، چې که په پوره ډول سره فرمانبرداري وکړئ، نو د نافرمانانو ملک به تاسې ته درکول کیږي، والراجح الأول کما رجحه «ابن کثیر».

سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَإِن يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوا بِهَا وَإِن يَرَوْا سَبِيلَ الرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا وَإِن يَرَوْا سَبِيلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا غَافِلِينَ ﴿١٤٦﴾

ژر به واړوم (زه له قبلولو د افاقي او انفسي) آیتونو خپلو څخه هغه کسان چې تکبّر کوي په ځمکه کې په ناحقه سره، او که ووینې (دغه متکبران) هر قسم آیت (د قرآن یا د نبوّت معجزې نو) نه راوړي ایمان پر هغو (عنادا)، او که ووینې لاره د رشد (طریقه د هدایت خپل الله او جنت ته)؛ نو نه نیسي دوی هغه لاره (او نه ځي پر هغه طریقه) او که ووینې دوی لاره د ګمراهۍ نو نیسي دوی هغه لاره (او طریقه د تګ خپل او ځي پـرې)، دغه (ګرځېدل له سمې صافې لارې) په سبب د دې دي؛ چې دوی نسبت د دروغو کړی وو آیتونـو ځمونږ تـه، او وو دوی لـه هغـو (آیتونو) څخه غافلان (بې خبره چې فکر به یې په کې نه کولو).

تفسیر: یعنې هغه خلق چې د الله تعالـی او د رسول صلی الله علیه وسلم پـه مقابل کې ناحقه تکبر کـوي، او دوی ته نخوت او غرور اجازه نه ورکوي؛ چې د الله جل جلاله احکام ومني، مونږ به هم د دوی زړونه د خپلو آیتونو له لوري ورګرځوو، چې په آینده کې له هغوی څنې د ګټې توفیق ونه مومي.

وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَلِقَاءِ الْآخِرَةِ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٤٧﴾

او هغه کسان چې نسبت د دروغو يې کړی دی آيتونو ځمونږ ته او ملاقات د آخرت ته؛ خراب او باطل شول عملونه د دوی؛ نشي جزا ورکولی دوی ته مګر جزا د هغه عمل چې وو دوی چې عمل به (يې) کولو.

تفسير: يعنې د الله تعالی په احکامو باندې به د تللو توفيق نه مومي، او هغه کارونه چې له خپله عقله يې کوي، هغه به د الله تعالی په دربار کې نه قبليږي، دوی څه چې کوي هم هغه به ګالي (برداشت کوي)، او څه چې کړي هم هغه به ريبي، پاتې شوه د دوی بې اساسه نېکی؛ د هغو هر هغه بدل چې دوی ته رسېدونکی دی، هغه به په همدغې دنيا کې دوی ته ورورسيږي.

وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوسَىٰ مِنْ بَعْدِهِ مِنْ حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَهُ خُوَارٌ أَلَمْ يَرَوْا أَنَّهُ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيهِمْ سَبِيلًا اتَّخَذُوهُ وَكَانُوا ظَالِمِينَ ﴿١٤٨﴾

او ونيوه (جوړ کړ) قوم د موسی وروسته (د تللو) د ده (ميقات ته) له زېوراتو (ګانو) خپلو ځُسی مجسم، چې ده لره غږ وو لکه د ځُسي (جوړ يې کړ لپاره د عبادت)، آيا نه ليدل (نه پوهېدل) دوی چې بېشکه دغه (ځُسی) خبرې نه کوي له دوی سره، او نه ښيي دوی ته هيڅ لاره، ونيو دوی هغه (ځُسی په الوهيت سره)، او وو دوی ظالمان (پر خپلو ځانونو).

تفسير: دغه ګانې (زېورات) چې ويلي «ذوب» شوي وو، او د خسي مجسمه ترې جوړه شوې وه، په اصل کې د فرعون د قوم يعنې د قبطيانو وې، چې له هغوی ځنې پاتې او د بني اسرائيلو په لاسونو کې لوېدلې وې، لکه چې د «طه» په سورت کې راغلي دي: ﴿حُمِّلْنَا أَوْزَارًا مِّن زِينَةِ الْقَوْمِ﴾.

﴿جَسَدًا لَّهُ خُوَارٌ﴾ الآيه ـ د «طه» په سورت کې به د دې خسي مفصله قصه راشي، دلته يې د دوی پر حماقت او سفاهت باندې تنبيه ورکړې ده، چې هغوی يو له خپله ځانه جوړې شوې مجسمې ځنې، د ځُسي په غږ آورېدلو باندې مفتون شوي دي، او هغه خسی خپل معبود ګڼي، حال دا چې په دغه بې معنی غږ کې نه کوم کلام وو، او نه څه خطاب، نه ديني او دنيوي هدايت او نه منفعت ترې حاصلېده، داسې يو تش صورت خو يو شی د انسانيت درجې ته هم نشي رسولی.

دا لا څه چې د هغه په وسيله انسانان د الله تعالی جل وعلا د معرفت تردرجې پورې خپل ځانونه ورسوي، نو دغه ځومره لوی ظلم او بې موقع کار دی، چې د يوه معمولي ساکښ (ذي روح) مجسمې ته معبود وويل شي، خبره خو دا ده چې دغه قوم ته لا له پخوا د داسې بې موقعو خبرو کولو عادت پيدا شوی وو، لکه چې پخوا له دې نه د ﴿اجْعَل لَّنَا إِلَٰهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ﴾ غوښتنه يې له موسی عليه السلام څخه کړې وه.

وَلَمَّا سُقِطَ فِي أَيْدِيهِمْ وَرَأَوْا أَنَّهُمْ قَدْ ضَلُّوا قَالُوا لَئِن لَّمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا وَيَغْفِرْ لَنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿١٤٩﴾

او کله چې پښېمانه شول (په عبادت د ځُسي باندې) او پوه شول چې بېشکه دوی په تحقيق ګمراه شوي دي؛ نو ويې ويل: قسم خامخا که رحم ونه کړي پر مونږ رب ځمونږ، او بخښنه ونه کړي مونږ ته (رب ځمونږ نو) خامخا به شو مونږ هرومرو له زيانکارانو.

تفسير: ځينو د ﴿وَلَمَّا سُقِطَ فِي أَيْدِيهِمْ﴾ ترجمه داسې هم کړېده: «او کله چې وغورځولې شو خپګان او پښېماني په لاسونو د دغو بني اسرائيلو کې، يعنې په دې کار خپل ډېر پښېمان شول».

وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰ إِلَىٰ قَوْمِهِ غَضْبَانَ أَسِفًا ۙ قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُونِي مِن بَعْدِي ۖ أَعَجِلْتُمْ أَمْرَ رَبِّكُمْ ۖ وَأَلْقَى الْأَلْوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُ إِلَيْهِ ۚ قَالَ ابْنَ أُمَّ إِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُونِي وَكَادُوا يَقْتُلُونَنِي ۖ فَلَا تُشْمِتْ بِيَ الْأَعْدَاءَ وَلَا تَجْعَلْنِي مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿١٥٠﴾

او کله چې بېرته راغی موسی (د طور له غره) قوم خپل ته په دې حال کې چې ډک وو له ډېر قهر او غصې افسوس کوونکی، وويل (موسی قوم خپل ته): بد خلافت چې خلافت کړی دی تاسې ځما (دا خلافت دی) وروسته له ما، آيا تلوار وکړ تاسې (په دې شرک سره او پر پښود تاسې حکم) امر د رب خپل، (نو تاسې داسې ولې وکړه) او وغورځولې (موسی هغه) تختې (د تورات له جهته د غضبه لپاره د حمايت د دين) او ويې نيوه سر د ورور خپل چې راښکود يې هغه ځان خپل ته، نو وويل (هارون موسی ته ای) ځويه د مور ځما ! بېشکه چې (دغه) قوم ضعيف کړی ووم زه، او نژدې وو دوی چې وژلی يې وم زه، نو مه خوشالوه په ما باندې دښمنان، او مه ملګری کوه ما له قوم ظالمانو سره !.

تفسير: کله چې موسی عليه السلام له «طور» څخه بېرته راغی؛ له غصې ډک وو، ځکه چې الله تعالی په همغه «طور» کې موسی عليه السلام ته خبر ورکړی وو، چې د «سامري» له لاسه ستا قوم ګمراه شو، د دې خبرې له اوربدلو څخه موسی عليه السلام سخت خپه او متأسف او په قهر شو.

﴿قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُونِي مِن بَعْدِي﴾ «وويل موسی: بد خلافت چې خلافت کړی دی تاسې ځما وروسته له ما دا خلافت دی»، يا وويل موسی قوم خپل ته: «بد کار دی دغه عبادت د ځُسي چې کړی دی تاسې پس له تګه (تلو) ځما د طور غره ته».

دغه خطاب د خسي عبادت کوونکو ته وو، يعنې وروسته له ما څخه تاسې په ښه ډول ځما نيابت وکړ؟ ! «بلکه ومو نه کړ»، د هغې خبرې په نسبت چې ما پر تاسې زيات تأکيد کړی وو، (يعنې د الله تعالی توحيد او تفريد)؛ تاسې د هغه په ځای دخسي مجسمه ودروله، او د هغه په نسبت مو داسې وويل: ﴿هَٰذَا إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ﴾، يعنې «في الحقيقت همدغه ستاسې او د موسی معبود دی»، او ممکن دی چې دغه خطاب هارون عليه السلام ته هم وي، چې تا ځما د هغه نيابت حق چې ﴿اخْلُفْنِي فِي قَوْمِي﴾ مې درته ويلی وو، او هغه مې درسپارلی وو؛ په ښه شان سره ادا نه کړ، او د دوی مخه دې ونه نيوله، او په ټينګه سره دې د دغې فتنې مقابله ونه کړه، لکه چې د «طه» په سورت کې په تفصيل سره راځي.

﴿قَالَ ابْنَ أُمَّ﴾ الآيه ـ نو «وويل هارون: ای ځويه د مور ځما ! بېشکه چې دغه قوم ضعيف کړی وم زه، او نژدې وو چې دوی وژلی وم زه، نو مه خوشالوه په ما باندې دښمنان، او مه ملګری کوه ما له قوم ظالمانو سره».

اګر که هارون عليه السلام د موسی عليه السلام سکه ورور دی، مګر د مور د نسبت له يادولو څخه مقصد د نرمی، شفقت او مهربانی په لوري د موسی عليه السلام اړول دي.

دې آيت کې د هارون عليه السلام دمعذرت بيان دی، حاصل يې داسې دی: «ما سم له خپله مقدوره بني اسرائيل ډېر وپوهول، ليکن دوی ځما حقاني خبرو ته هيڅ غوږ کښنبود، او برسېره پر هغه ځما د وژلو لپاره هم تيار شول، اوس تاسې په دغې معاملې کې هغوی پر ما مه خوشالوئ، او دوی ته داسې موقع مه ورکوئ ! چې پر ما وخاندي، او د قهر او عتاب په وخت کې ما د ظالمانو په ډله کې مه شاملوئ !».

قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِأَخِي وَأَدْخِلْنَا فِي رَحْمَتِكَ ۖ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿١٥١﴾

وويل «موسى»: ای ربه ځما بخښنه وکړه ما ته (د دې عمل چې ومې کړ له خپل مشر ورور سره) او ورور ځما ته (هم بخښنه وکړه که يې تقصير کړی وي په منع کې)، او داخل کړه مونږ په رحمت خپل کې (چې دنيوي عصمت او اخروي جنت دی) او همدا ته ډېر مهربان يې له ټولو مهربانانو نه.

إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ ﴿١٥٢﴾

بېشکه هغه کسان چې نيولی دی دوی ځُسی (په معبوديت) ژر به ورسيږي دوی ته غضب له ربه د دوی او ذلت (خواري) په دې ژوندون لږ خسيس کې، او همداسې (لکه سزا د عابدانو د ځُسي) سزا ورکوو مونږ بهتان ترونکو ته.

تفسير: دا همغه غضب دی چې ذکر يې په (اول جزء د «البقرة» په (٦١) آيت (٦) رکوع کې تېر شوی دی)، يعنې د ځُسي عابدان دې د هغو خلقو له لوري ووژلی شي؛ چې هغوی د ځُسي په عبادت کې نه دي شامل شوي، او د خسي د عبادت کوونکو په منع کې يې برخه نه ده آخيستې.

له دې نه معلومه شوه؛ چې د مرتدّانو سزا وژل دي، او له ذلت ځخه هغه خواري مراد ده، چې د نفي بلد او د جزيې په ډول پر دوی تطبيقيږي، او تر قيامته په مسکنت او سپکوالي محکوم دي.

وَالَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ ثُمَّ تَابُوا مِنْ بَعْدِهَا وَآمَنُوا إِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٥٣﴾

او هغه کسان چې کوي دوی ناکاره کارونه (صغيره يا کبيره ګناه) بيا توبه وباسي پس له کولو د هغو (سيئاتو) او ايمان راوړي (په ټولو مؤمن به شيانو؛ نو توبه يې قبليږي ځکه) بېشکه چې رب ستا پس له دې (توبې) خامخا ښه بخښونکی (د خطياتو) رحم کوونکی دی.

تفسير: يعنې پاک الله د ناکارو کارونو کوونکي بخښي، تر دې که وروسته له کفر او شرکه په صدق سره کافر او مشرک توبه وباسي، او په رښتيا سره ايمان راوړي، نو د ﴿لَغَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ په دربار کې يې توبه قبليږي، ځکه چې د الله تعالى په لوی دربار کې هر شی زيات دي، دغه بخښنه او نور په آخرت پورې متعلق دي، ګواکې اشاره يې وفرمايله چې د ځُسي عبادت کوونکو ته چې هغه د وژلو سزا ورکړی شوې ده؛ هغه د دوی په حق کې د دوی د توبې د قبلېدو شرط ګڼلی شوی وو: ﴿فَتُوبُوا إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ﴾ (اول جزء د البقرة سورت (٥٤) آيت (٦) رکوع).

اوس پر هغوی څه اخروي مؤاخذه نه ده پاتې، له دنيوي سزا ځخه وروسته د اخروي حالت بيان په دغه ځای کې هم داسې دی: لکه چې په (٦ جزء د المائدې سورت په (٣٨) آيت (٦) رکوع) کې ﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا﴾ الآيه - پسې وروسته يې ﴿فَمَنْ تَابَ مِنْ بَعْدِ ظُلْمِهِ وَأَصْلَحَ فَإِنَّ اللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ فرمايلي دي.

وَلَمَّا سَكَتَ عَنْ مُوسَى الْغَضَبُ أَخَذَ الْأَلْوَاحَ ۖ وَفِي نُسْخَتِهَا هُدًى وَرَحْمَةٌ لِلَّذِينَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ ﴿١٥٤﴾
وَاخْتَارَ مُوسَى قَوْمَهُ سَبْعِينَ رَجُلًا لِمِيقَاتِنَا ۖ فَلَمَّا أَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ أَهْلَكْتَهُمْ مِنْ قَبْلُ وَإِيَّايَ ۖ أَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ السُّفَهَاءُ مِنَّا ۖ إِنْ هِيَ إِلَّا فِتْنَتُكَ ۖ تُضِلُّ بِهَا مَنْ تَشَاءُ وَتَهْدِي مَنْ تَشَاءُ ۖ
أَنْتَ وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الْغَافِرِينَ ﴿١٥٥﴾

او كله چې قرار (سوړ) شو له موسى قهر نو وايي خيستې هغه تختې (د تورات)، او په ليک د دغو (تختو) کې هدايت او رحمت وو لپاره د هغو کسانو چې دوى له رب خپل څخه ويريږي. او غوره کړل موسى له قومه خپله اويا (تنه) سړي (چې د خسي له عابدانو څخه نه وو) لپاره د موعوده وخت ځمونږ، نو کله چې ونيول هغوى زلزلې (په دنيا کې د الله د رؤيت د سوال په سبب)؛ نو وويل (موسى د اتهام له وېرې): اى ربه ځما ! که اراده فرمايلې وي تا (د هلاکولو د دوى) هلاک کړي به وو تا دوى پخوا له دې نه، او زه به دې هم (هلاک کړى وى)، آيا هلاکوې ته مونږ په هغه کار چې کړى دى بې عقلانو له مونږه؟، نه دى دا کار مګر ازمېښت دى ستا، ګمراه کوې په دې سره (يا الله !) هر هغه څوک چې اراده يې وکړې ته (د ضلالت)، او هدايت کوې ته (يا الله !) هر هغه چا ته چې اراده وکړې ته (د هدايت يې)، همدا ته يې ولي (واکدار) ځمونږ، نو بخښنه وکړه مونږ ته (د ګناهونو ځمونږ) او رحمت وکړه پر مونږ، او همدا ته يې بهتر غوره د ټولو بخښونکو.

تفسير: همدغه خبره راجحه معلوميږي چې دغه ميقات علاوه پر هغه ميقات دى؛ چې موسى عليه السلام ته د تورات د ورکولو لپاره مقرر شوى وو، او هم د حاضرو آيتونو له ترتيبه ظاهرا مفهوميږي، چې دغه واقعه د خُسي د عبادت او سزا ميندلو څخه وروسته پېښه شوې ده، ليکن د سورت النساء د ﴿فَقَالُوٓا۟ أَرِنَا ٱللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ ٱتَّخَذُوا۟ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ﴾ په ډېر ښکاره صورت سره دا راښيي چې د خُسي عبادت وروسته له دې پېښې شوى دى، والله أعلم بالصواب.

د دې واقعې خلاصه په (اول جزء د البقرة د سورت په (٥٥) آيت (٦) رکوع) کې پخوا تېره شوې ده، بني اسرائيلو موسى عليه السلام ته ويلي وو، چې مونږ ستا په خبرو هلته باور او يقين کولى شو؛ چې د الله تعالى خبرې مونږ په خپلو غوږونو واورو، موسى عليه السلام د دوى له منځه اويا تنه سړي چې ګرد (ټول) مشران وو؛ انتخاب کړل، او د طور د غره په لوري لاړل، بالآخر دوى د الله تعالى خبرې په خپلو غوږونو سره واورېدلې، بيا يې وويل: که مونږ پاک الله بې حجابه په خپلو سترګو ونه وينو؛ نو يقين مو ښه نه راځي، د دې بې ادبۍ او ګستاخۍ په مقابل کې د ځمکې له لوري سخته زلزله وشوه، او د آسمان له لوري د برېښنا او تالندۍ سخت غږ راپورته شو، چې د هغې په اثر دوى ګرد وربرد ېدل، او ټول ځاى په ځاى مړه شول، موسى عليه السلام په ډېر عجز او نياز د ځان او د خپلو ملګرو عجز او نياز د بې نياز خالق په دربار کې په همغه خاص اسلوب او امتياز او مؤثر اصول سره وړاندې او يوه ښه دعا يې وکړه، چې د هغې په اثر هغه ګرد (ټول) سړي وبخښل شول، او پاک الله هغوى ته نوى ژوند ورمرحمت کړ، كما قال الله جل وعلا: ﴿ثُمَّ بَعَثْنَٰكُم مِّنۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾.

وَٱكْتُبْ لَنَا فِى هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ إِنَّا هُدْنَآ إِلَيْكَ ۖ قَالَ عَذَابِىٓ أُصِيبُ بِهِۦ مَنْ أَشَآءُ ۖ وَرَحْمَتِى وَسِعَتْ كُلَّ شَىْءٍ ۚ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِنَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٥٦﴾

او وليکه (مقرر کړه) مونږ ته په ژوندون ددنيا کې نيکي (ښه معيشت او توفيق دطاعت) او په آخرت کې (هم نيکي جنت)، بېشکه مونږ راجع (او توبه ګار) شوي يو تاته، نو وفرمايل (الله چې): عذاب ځما وبه رسوم دا (عذاب) هر هغه چا ته چې اراده وکړم زه (د رسونې يې)، او رحمت ځما شامل دى هر شي ته (په دنيا کې)، نو ژر به وليکم (ور به کړم په آخرت کې) دا (رحمت) هغو کسانو ته چې ځانونه ساتي له کفره او معاصى، او ورکوي دوى زکات، او هغه کسان چې دوى په آيتونو ځمونږ ايمان لري (او يقين پرې کوي).

تفسير: شاه صاحب ليکي: چې ښايي موسى عليه السلام د خپل امت په حق کې د دنيا او آخرت ښېګڼې (فائدې) چې غوښتلې يې؛ مراد به يې داسې وي چې: «زما امت دى په ګردو (ټولو) امتونو په دنيا او آخرت کې مقدم او فايق وي».

جواباً الله تعالى وفرمايل چې: «ځما عذاب او رحمت د هيڅ يوې فرقې لپاره مخصوص نه دي، نو عذاب مې په هغه چا دى چې زه يې اراده وفرمايم، او عام رحمت مې ګردو مخلوقاتو لره شامل دى، ليکن هغه خاص رحمت چې ته يې غواړې: (چې قبول د توبې يا توفيق د طاعت يا رزق حلال يا مقال دى په دنيا کې، او رضوان او مغفرت او لقاء او جنت دى په عقبا کې)؛ د هغو کسانو په برخه ليکلى شوى دى، چې له الله تعالى څخه ويريږي، او له خپلو اموالو ځنې زکات اداء کوي، يا د نفس په تزکيه کې مشغول او لګيا وي، او د الله تعالى پر ګردو احکامو او خبرو د زړه له کومې باور لري، يعنې دا آخري امت پر ګردو کتابونو ايمان راوړي، د موسى عليه السلام له امت ځنې هغه کسان چې په آخري کتاب باندې ايمان راوړي؛ نو دوى ته همغه نعمت ور په برخه کيږي، او د موسى عليه السلام د دعاء مورد ګرځي.

اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ الَّذِيْ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ ۡ يَاْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهٰىهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ اِصْرَهُمْ وَالْاَغْلٰلَ الَّتِيْ كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۭ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ مَعَهٗٓ ۙ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝

(دا متقيان مؤمنان چې مقرر دى دوى ته رحمت) هغه کسان دي چې متابعت کوي دوى د (دين د) هغه رسول چې نبي امي دى، هغه رسول چې مومي دوى (نوم او صفت د) ده ليکلى شوى په نزد د دوى په تورات او (په) انجيل کې، (هغه رسول چې حکم) امر کوي دوى ته په معروف (نېکۍ) سره، او منع کوي دوى له منکر (بدۍ) څخه او حلالوي دوى ته ګرد (ټول) طيبات (پاک شيونه چې حرام کړى شوي وو پر دوى باندې)، او حراموي پر دوى باندې خبيث (پليت) شيان، او لرې کوي له دوى څخه درانه بارونه د دوى، او قيدونه د سختيو هغه چې وو پر دوى، پس هغه کسان چې ايمان يې راوړى دى په دغه (محمد) او عزت (تعظيم رفاقت) کوي د دغه (محمد) او مرسته (مدد) کوي له دغه (محمد سره) اومتابعت کوي د هغه نور (رڼا) چې نازله کړى شوې ده سره له (متابعته د) دغه (محمد)؛ نو دغه (ستايلي شوي کسان) هم دوى دي په مراد رسېدلي.

تفسير: «يعنې هغه څوک چې زه دغه رحمت ورته مقرروم، له هر قوم او ټبر او ملت اومذهب څخه چې وي، هغه خاص هغه کسان دي؛ چې پيروي کوي دوى د هغه چا چې موصوف وي په دغو لسو صفاتو سره چې محمد صلى الله عليه وسلم دى»:

(١): داچې هغه رسول او لېږلى ځما دى، رسول يې وباله په نسبت د ځان خپل.

(٢): داچې هغه نبي او پيغمبر دى، نبي يې وباله په نسبت د خلقو.

(٣): داچې هغه رسول امي يعنې نالوستونکى او ناليکونکى دى، او دا يې معجزه او عين الکمال دى، چې بې له لوستلو او ليکلو لوى عالم دى.

اُمي يا خو د «ام ـ مور» په لوري منسوب دى، همغسې چې وړوکى د مور له ګېډې ځنې پيدا کيږي، او د هيڅا شاګرد نه وي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم هم په خپل ګرد (ټول) عمر کې له هيڅا ځنې هيڅ شى نه دي زده کړي،

او نه له چا سره شاګرد شوی دی، د «نبي أمي» لقب له دې حیثیته ځمونږ د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره د سلهاوو افتخارونو او ویاړونو پنګه ده، یا د امّي نسبت د «أم القری» مکې معظمې په لوري دی، چې د ده مبارک شریف مولد وو.

(۴): دا هغه رسول دی؛ چې مومي دا مؤمنان د بني اسرائیلو ـ نوم او صفت د ده لیکلی شوی هم په تورات کې او هم په انجیل کې، یعني د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د رسالت بشارتونه، نعتونه او صفتونه په سابقه سماوي کتابونو کې مذکور دي، تر دې چې له هغه وخته تر نن ورځې پورې چې (۱۴۳۴) قمري کاله ځمونږ د پاک پیغمبر صلی الله علیه وسلم له هجرته تېر شوي دي، او خورا (ډېر) زیات تغییرات، تزییدات، او تنقیصات هم په هغو کتابونو کې شوي دي، خو بیا هم په اوسنیو انجیلو کې ډېر بشارتونه او اشارات موندل کیږي، چې هغه د هرې زمانې علماوو د کتابونو په حواله رابنوولي دي، ولله الحمد علی ذلک.

(۵): هغه رسول صلی الله علیه وسلم چې امر «حکم» کوي دوی ته په معروف او نېکۍ سره چې هغه توحید او نور فضایل دي.

(۶): هغه رسول صلی الله علیه وسلم چې منع کوي دوی له منکر او بدۍ څخه چې هغه شرک او نور رذائل دي.

(۷): هغه رسول صلی الله علیه وسلم چې حلالوي دوی ته ګرد (ټول) طیبات او پاکیزه شیان چې حرام کړی شوي وو پر دوی باندې لکه: وازده چې حرامه وه پر یهودانو، او لکه بحیره او سائبه او وصیله چې حرام کړي وو پر خپل ځانو نورو جاهلانو.

(۸): هغه رسول صلی الله علیه وسلم چې حراموي پر دوی خبیث پلیت شیان، لکه خنځیر او مرداره او بهیدونکې وینه.

(۹): هغه رسول صلی الله علیه وسلم چې ږدي یعني لرې کوي له دوی نه درانه بارونه د دوی، چې قتل وو د خپل ځان یا له وطن څخه جلاوالی (جدا والی) وو په قبول د توبې کې، او پرېکول د هر هغه اندام وو چې ګناه ترې صادر بده، او پرېکول د پلیت ځای وو له جامې څخه، او داسې ډېر نور سخت کارونه.

(۱۰): هغه رسول صلی الله علیه وسلم چې لرې کوي قیدونه چې وو پر دوی، او هغه سخت طوقونه چې پراته وو په غاړو د دوی کې له وخته د موسی علیه السلام څخه تر اوسه پورې لکه لزوم د قصاص بې له صحته د عفوې او بې دیته په قتل د عمد او د سهوې دواړو کې، او سوځول د غنائمو او داسې نور سخت احکام.

یعني پر یهودانو هغه سخت حکمونه چې نافذ وو، او د دوی د خوړو په شیانو کې د دوی د شرارتونو له وجې هغه مضیقه او تنګي چې وه، هغه ګرد (ټول) په دغه دین کې پورته یا آسانه شوي دي: ﴿فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَن سَبِيلِ اللَّهِ كَثِيرًا﴾ (۶ جزء د النساء سورت (۱۶۰) آیت (۲۲) رکوع).

او هغه ناپاک شیان لکه لحم الخنزیر، یا ګنده خبرې مثلاً رشوت، سود، او سوایي او نور دوی په خپلو ځانونو حلال کړي وو، چې د هغو حرمت دغه رسول الله محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم رابنکاره کړ، الغرض له دوی څنې ډېر درانه بارونه لرې او سپک کړی شوي دي، او ډېر قیود ترې پورته کړی شوي دي، لکه چې په حدیث کې فرمایلي شوي دي: «بعثت بالحنیفیة السمحة».

﴿فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ﴾ «هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی په دغه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم او عزت تعظیم رفاقت کوي د دغه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم، اومرسته (مدد) کوي له ده سره، او متابعت کوي د هغه نور (رڼا) چې نازله کړی شوې ده سره له متابعته د ده؛ نو دغه ستایلي شوي کسان همدوی دي په مراد رسیدلي بریالي».

له «نور» څنې «وحي» مراد ده، أعمّ له دې چې متلوّ وي (چې په لمانځه کې لوستله کيږي)، يا غير متلوّ (چې په لمانځه کې نه لوستله کيږي).

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِىِّ ٱلْأُمِّىِّ ٱلَّذِى يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥٨﴾

ووايه (ای محمده ! چې) ای خلقو بېشکه زه رسول د الله يم تاسې ټولو ته (نه بعضو ته لکه نور انبياء) هغه الله چې (خاص) ده لره دی ملک (پاچاهي) د آسمانونو او د ځمکې، نشته هيڅ لايق د عبادت (په حقه سره) مګر همدی دی چې ژوندي کول کوي، او مړه کول کوي، نو ايمان راوړئ (يقين وکړئ) پر الله (چې واحد او لا شريک دی)، او په رسول د دغه (الله) چې نبي امّي (نالوستونکی نالیکونکی دی)، هغه رسول چې ايمان لري په الله او په ټکردو (ټولو) خبرو د الله، او متابعت وکړئ د ده لپاره د دې چې تاسې لاره وموميء.

تفسير: يعنې ستا بعثت د دنيا ټکردو خلقو ته عام دی، د عربو په اميّونو يا يهودو او نصاراوو پورې نه دی محدود، همغسې چې پاک الله مطلق شهنشاه دی؛ ته هم د هغه مطلق رسول يې، اوس د هدايت او کاميابۍ صورت پرته له دې نه په بل شي کې نشته؛ چې د هغه ډېر جامع او عالم نيوونکي شريعت متابعت او پيروي وکړی شي، چې تاسې ته هغه راوړی دی، همدغه رسول الله صلى الله عليه وسلم دی چې ايمان پرې راوړل په ټکردو انبياوو او مرسلينو عليهم السلام او تمامو سماوي کتابونو باندې د ايمان راوړلو سره مرادف دی.

وَمِن قَوْمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِٱلْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ ﴿١٥٩﴾

او څينې له قومه د موسی نه يو امت (ټولی) دی چې لاره ښيي (خلقو ته) په حقه، او په دې حق انصاف کوي (په منځ د خلقو کې لکه چې دوی پخپله هم پرې عمل کوي).

تفسير: اګر که اکثره يهودان د سرکښۍ او بې انصافۍ لارې غوره کوي؛ خو سره له هغه څينې داسې نېکمرغي ارواحې هم په دوی کې شته، چې نورو ته د الله جل جلاله په لوري او د حقانيت په طرف دعوت ورکوي، او دوی هم بالذات د حق او انصاف په لاره تګ کوي، لکه عبد الله بن سلام اونور.

وَقَطَّعْنَٰهُمُ ٱثْنَتَىْ عَشْرَةَ أَسْبَاطًا أُمَمًا ۚ

او ټبل ټبل کړ مونږ دغه (بني اسرائيل) دولس قبيلې ټولي ټولي؛

تفسير: يعنې د اصلاح او انتظام لپاره په دولس قبيلو سره چې د دولسو پلرونو اولادې وې؛ وېشل شوي دي، بيا په هره قبيله کې يو يو مشر او نقيب مقرر کړی شوی دی، چې د دوی پر احوالو کتنه وکړي، او تل د دوی د اصلاح خيال وکړي: ﴿وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًا﴾.

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ إِذِ ٱسْتَسْقَىٰهُ قَوْمُهُۥٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْحَجَرَ ۖ فَٱنۢبَجَسَتْ مِنْهُ ٱثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ۖ قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ۚ وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلْغَمَامَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلْمَنَّ وَٱلسَّلْوَىٰ ۖ كُلُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ ۖ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١٦٠﴾ وَإِذْ قِيلَ

لَهُمُ اسْكُنُوا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ وَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ وَقُولُوا حِطَّةٌ وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا نَغْفِرْ لَكُمْ خَطِيٓـَٔاتِكُمْ سَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٦١﴾

او وحي (حكم) مو ولېږه موسى ته كله چې اوبه وغوښتې ترې قوم د ده (په ميدان د تيه كې) چې ووهه په همسا خپله تيږه (ګټه)؛ نو (چې موسى په همسا ووهله تيږه ـ ګټه) راوخوتېدلې له هغې تيږې (ګټې) څخه دولس چينې (د قبيلو په شمار)، په تحقيق وپېژانده هرې قبيلې (له دوى څخه) ځاى (چينه) د اوبو چښلو خپلو، او سيورى كړى وو مونږ پر دوى ورېځ (په ميدان د تيه كې) او نازل (رابښكته) كړې وو مونږ پر دوى من (ترنجبين) او سلوى (مړغان، نو وويل مونږ دوى ته چې) وخورئ تاسې له پاكيزه او حلالو لذيذو هغو شيانو چې دركړي دي مونږ تاسې ته، او نه وو كړى ظلم دوى پر مونږ (په دغه كفران او عصيان سره) وليكن وو دوى چې په خپلو ځانونو به يې ظلم كاوه. او (ياد كړه) هغه وخت چې وويل شو دوى ته: اوسئ تاسې په دغې قريې (د اريحا يا ايليا يا بيت المقدس) كې، او خورئ تاسې له (مېوو د) دې څخه له هر ځاى (او له هر شي) څخه مو چې خوښه وي، او ووايئ راوبخښه (ګناهونه ځمونږ) او ننوځئ تاسې دروازې (د دې قريې ـ ښار) ته سجده كوونكي، نو وبه بخښو مونږ تاسې ته ګناهونه ستاسې، ژر به زيات كړو محسنانو (نېكانو) ته (اجر).

تفسير: يعنې اوس خو يو ښار فتح شو، وروسته به ګرد ملك په لاس درشي، «كذا في الموضح»، يا يې دغه مطلب دى چې خطاګانې به مو وبخښي، د نېكانو اجر او ثواب به ورته زياتوي، «كذا في عامّة الكتب».

فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوا يَظْلِمُونَ ﴿١٦٢﴾

پس بدله كړه هغو كسانو چې ظلم يې كړى وو (په خپلو ځانونو) له دوى څخه خبره غير له هغې چې ويلې شوې وه دوى ته؛ نو ولېږه مونږ پر دوى عذاب له آسمانه په سبب د هغه چې وو دوى چې ظلمونه به يې كول.

وَسْـَٔلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ إِذْ يَعْدُونَ فِي السَّبْتِ إِذْ تَأْتِيهِمْ حِيتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا وَيَوْمَ لَا يَسْبِتُونَ لَا تَأْتِيهِمْ كَذٰلِكَ نَبْلُوهُمْ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿١٦٣﴾

او پوښتنه وكړه (اى محمده ! له يهودو) له (حاله د) قريې (ښار) څخه هغه چې وو په غاړه د بحر كې، كله چې له حده تېر بدل دوى له (فرمانه په ښكار د ماهيانو) په ورځې د خالي كې، كله چې راتله دوى ته ماهيان د دوى په ورځ د خالي د دوى كې ښكاره (د اوبو په سر)، او په هغه ورځ كې چې داخل به نه وو په خالي كې نو نه به راتله (ماهيان) دوى ته، همداسې (لكه چې په خالي كې راتلل يا په مثل د دغه امتحان) آزمويو مونږ دوى په سبب د دې چې وو دوى چې فسق به يې كولو (د الله له اطاعت څخه به وتل).

تفسير: يعنې د خپلې زمانې له يهودانو ځنې د تنبيه او توبيخ په ډول د هغه كلي د اوسېدونكو يهودانو د هغې قصې پوښتنه وكړئ ! چې د داود عليه السلام په زمانه كې پېښه شوې وه، د اكثرو مفسرينو په نزد له دغې قريې ځنې د (ايله)

ښار مراد دی، چې د قلزم د دریاب پر غاړه کې د مدین او د طور په منځ کې واقع وه، د دغه ځای اوسیدونکو د سیند د نژدیوالي له امله (وجې) د کبانو (ماهیانو) د ښکار عادت درلود (لرلو).

حق تعالی پر یهودانو د خالي (شنبې) د ورځې ښکار کول حرام ګرځولي وو، د (ایله) د ښار اوسېدونکي د احکامو په عدول او نافرمانۍ عادي (روږدي) وو، نو د الله تعالی له لوري د دوی سخته ازموینه شروع شوه، چې د خالي په ورځ کې داسې ډېر زیات کبان (ماهیان) موجود وو؛ چې د سیند د پاسه سطح باندې به ګرځېدل، او په نورو ورځو کې به غائب وو، د دغو خلقو له لاسونو څخه د صبر زمام خوشې شو، او د الله جل جلاله د صریح حکم په خلاف یې په حیله او بهانه کولو شروع وکړه، د سیند په غاړه کې یې ډنډونه جوړ کړل، کله چې د خالي په ورځ کبان په دغو جوړ شوو ډنډونو کې ننوتل؛ نو هغوی به د دوی د وتلو لارې بندولې، او په بله ورځ یعنې یکشنبې کې به یې نیول، چې د خالي د ورځې ښکار پرې صادق نشي، ګواکې دوی په دغه حرکت سره (معاذ الله) الله تعالی تېرایسته، بالآخر یې په همدغې دنیا کې د دغې مخالفت سزاوې وموندې، چې مسخ شول، او خورا (ډېر) سپک بیزوګان وګرځېدل، له دې نه ښکاره شوه چې پلمې (بهانې) جوړول حیله او مکاري د الله تعالی په دربار کې له سره نه چلیږي.

وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ۙ اللَّهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ قَالُوا مَعْذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿١٦٤﴾

او (پوښتنه وکړه ای محمده ! له یهودانو) کله چې وویل یوې فرقې له دوی (چې نه به یې پخپله ښکار کاوه او نه به یې نور منع کول مانعینو ته) ولې نصیحت کوئ تاسې هغه قوم ته چې الله هلاک کوونکی د دوی دی (په دنیا کې) یا عذاب کوونکی د دوی دی په عذاب سخت (د اور سره په عقبا کې په سبب د نافرمانۍ د دوی)؟ وویل دوی (چې: وعظ کوو مونږ) لپاره د عذر پیدا کولو (خپل) رب ستاسې ته، او لپاره د دې چې ښایي دوی وویرېږي (له عذابه).

تفسیر: معلومیږي کله چې دوی د الله تعالی د حکم په مخالفت په پلمو (منصوبو) جوړولو او حیلو شروع وکړه؛ نو د ښار اوسېدونکي پر څو قسمونو منقسم شول، لکه چې عموماً په داسې حالاتو کې هم داسې کیږي.

(۱): هغه خلق چې د دغې پلمې (منصوبې) په سیوري کې یې د الهي حکم صریح مخالفت کولو.

(۲): هغه نصیحت کوونکو چې تر آخره پورې په پوهولو او امر بالمعروف مشغول وو.

(۳): هغه کسان چې لږ او ډېر نصائح یې کول، خو څو ورځې وروسته مأیوس او د هغوی له سرکښۍ څنې ستړي شول، او په خپل سر یې پرېښودل.

(۴): هغه کسان وو چې نه په دغه عمل کې شریک شول، او نه یې د هغه په منع کولو کې خپله ژبه خوځوله، او بیخي ځان له جلا (جدا) او چپ پاتې شول، دغو مؤخرو الذکر ډلو به هغو ستړو ستومانه شوو تل نصیحت کوونکو ته داسې ویل: «ولې تاسې خپل سر خوږوئ؟ او ماغزه مو په دردوئ؟ چې په دوی کې د حق د قبلولو امید او توقع نشته»، د دوی په نسبت له دوو خبرو څنې یوه خبره معلومیږي، چې هرو مرو (خامخا) راتلونکې ده، یا به الله تعالی دوی بیخي تباه او هلاک کړي، یا به یې په کوم ډېر سخت عذاب کې اخته کړي، ځکه چې دغه خلق اوس هیڅ یوه نصیحت ته غوږ نه ږدي.

﴿قَالُوا مَعْذِرَةً﴾ الآیه - «وویل دوی چې: وعظ کوو مونږ لپاره د خپل عذر پیدا کولو رب ستاسې ته، او لپاره د دې چې ښایي وویرېږي دوی له عذابه د الله تعالی، او ځان وساتي له ګناه څخه».

يعني ښايي له پوهولو سره لږ څه وويرېږي، او له خپلو بد حرکاتو ځني ستانه (واپس) شي، که نه مونږ به لږ تر لږه د الله تعالى په حضور کې دومره معذرت وکړی شو، چې يا الله ! مونږ خو تر آخره پورې دوی ته په پند ورکولو او پوهولو کې څه قصور نه دی کړی (او د امر بالمعروف او نهي عن المنكر واجب مو اداء کړی دی)، ځرنګه چې دوی ځمونږ خبره نه ده منلې؛ نو پر مونږ يې څه الزام دی؟ ګواکې لومړني ناصحان خو بيخي مأيوس نه وو، کله چې مأيوس شول، هم پر عزيمت يې عمل وکړ، چې سره له مايوسۍ يې هم د دوی تعاقب پرې نښود.

فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ أَنجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُوا بِعَذَابٍ بَئِيسٍ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿١٦٥﴾

نو کله چې پرېښود دوی (لکه چې يې هېر کړی و ی) هغه (نصيحت) چې پند ورکړی شوی وو دوی ته په هغه سره (او منع نشول د ښکار څخه په خالي کې، نو) نجات ورکړ مونږ هغو کسانو ته چې منع کول دوی (دا نور) له بدۍ (چې ښکار وو په خالي کې) او ومو نيول هغه کسان چې ظلم يې کړی وو (په کولو د ښکار او نه کولو د نهي او منع کولو) په عذاب سخت سره په سبب د هغه چې وو دوی چې ګناهونه به يې کول.

تفسير: يعني کله چې دغو نالائقانو د ګردو (ټولو) نصيحت کوونکو پندونه داسې هېر کړل، لکه چې له سره يې نه وو اورېدلي؛ نو مونږ ناصحان وژغورل (وساتل)، اوظالمان مو په سخت عذاب کې ګرفتار کړل.

د ﴿أَنجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ﴾ د الفاظو عموم دلالت کوي چې هغو کسانو ته چې له نصيحت ځني ستړي شوي وو او ﴿لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا﴾ الآيه ـ به يې ويل ، او هغو کسانو تـه چې تـر آخره پورې يې د وعظ او نصيحت سلسله جاري ساتله؛ هغو دواړو ته نجات ور په برخه شو، او يواځې ظالمان ونيول شول، همدغه له عکرمه رضي الله تعالى عنه ځني منقول دی، او ابن عباس رضي الله تعالى عنهما د ده په فهم او پوهه باندې تحسين او آفرين ويلی دی، باقي هغه کسان چې له اوله تر آخره پورې ساکت پاتې وو، الله تعالى هم د دوی له ذکره سکوت وفرمايه.

«ابن كثير» څه ښه ليکلي دي: «فنص على نجاة الناهين وهلاك الظالمين وسكت عن الساكتين، لأن الجزاء من جنس العمل، فهم لا يستحقون مدحا فيُمدحوا، ولا ارتكبوا عظيما فيُذموا (ابن كثير) ورجّح بعد ذلك قول عكرمة، والله أعلم»، «نو تصريح وفرمايله الله تعالى په نجات د نصيحت کوونکو له عذابه، او په هلاک او عذابېدلو د ظالمانو او سکوت يې وفرمايه له حاله د هغو کسانو چې دوی سکوت کړی وو له وعظ او منع کولو څخه، ځکه چې جزا د هرې ګناه موافق او مناسب د هغې ګناه سره وي، نو دوی نه مستحق د مدحې دي، او نه دوی پخپله په ګناه کې شامل شوي دي، چې د دوی مذمّت بيان شي»، اوس الله تعالى د دوی د عذاب خبر راکوي.

فَلَمَّا عَتَوْا عَن مَّا نُهُوا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ ﴿١٦٦﴾

نو کله چې سرکشي وکړه دوی له (پرېښودلو د) هغه شي څخه چې منع کړی شوي وو دوی له هغه شي څخه (چې ښکار د ماهي وو په خالي ورځ کې؛ نو) وويل مونږ دوی ته چې: شئ بيزوګان شړلي رټلي سپک کړی شوي.

تفسير: ښايي پخوا له دې نه به څه نور عذاب راغلی وي، کله چې بيخي له حده تېر شول، نو ګرد ذليل شادوګان (بيزوګان) وګرځول شول، يا د ﴿فَلَمَّا عَتَوْا﴾ الآيه ـ د تېر آيت ﴿فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ﴾ الآيه ـ تفسير وګرځول شي، يعني هغه ﴿بِعَذَابٍ بَئِيسٍ﴾ همدغه له دوی ځني د بيزوګانو جوړول وو، شاه صاحب ليکي چې: «منع کوونکو له ښکار کوونکو

سره ناسته ولاړه او ملاقات پرېښود، او په منځ کې يې ديوال ووا‌هه، يوه ورځ ګهيځ (سحر وختي) چې خپل سرونه يې له ديوال اوچت کړل؛ ويې ليدل چې په هر کور کې بيزوګانې دي، دغو بيزوګانو خپل او پردې ټول پېژندل، او د خپلوانو په پښو کې لوېدل، او خپل تأثر به يې ښکاره کولو، او ژړل به يې، آخر په ډېر بد صورت سره درې ورځې وروسته مړه شول».

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَن يَسُومُهُمْ سُوءَ الْعَذَابِ ۗ إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ الْعِقَابِ ۖ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٦٧﴾

او (ياد کړه) هغه وخت چې خبر ورکړی وو رب ستا (د دې خبرې): قسم دی خامخا مسلط به کړم هرومرو په دغو (يهودانو) تر ورځې د قيامت پورې هغه څوک چې رسوي دوی ته سخت عذاب (لکه وژل، جزيې پرې مقررول)، بېشکه رب ستا خامخا ژر دی عذاب (د ده هغه چا ته چې د عذاب اراده يې وفرمايي) او بېشکه دغه (الله) خامخا ښه بخښونکی (د خطياتو) ډېر رحم کوونکو دی.

تفسير: يعنې د الله تعالى له طرفه صريح اعلان شوی وو، چې که يهود د تورات پر احکامو خپل عمل پرېږدي، نو حق تعالى تر قرب قيامت پورې وقتاً فوقتاً پر دوی باندې داسې خلق مسلط کړي؛ چې دوی به په بدو عذابونو مبتلا کوي، بد عذاب يې د يهودانو د دې دنيا محکومانه ژوندون وفرمايه.

لکه چې د يهودانو قوم کله د يوناني او کله د کلداني بادشاهانو تر حکومت لاندې وو، او کله د بخت نصر او د نورو د شدائدو د مشق تخته ګرځېدلي وو، په آخر کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم تر مبارک عهد پورې دوی مجوسيانو ته باج ورکوونکي وو، بيا مسلمان حکمرانان پر دوی مسلط شول.

غرض له هغه وخته راهيسې تر نن ورځې پورې دوی ته من حيث القوم دعزت او آزادۍ ژوندون ور په برخه شوی نه دی، بلکه هر چېرې چې اوسېدل؛ د زياترو پاچاهانو او حکامو له لورې به يې سخت ذلتونه او خطرناک تکليفونه ګالل (تېرول)، د دوی مال او دولت او نور هيڅ شی دوی ته د سپکتيا او غلامۍ او محکوميت له ذلت او لعنت څخه نجات نه دی ورکړی، او نه به دوی تر قيامته پورې نجات وموندلی شي، په آخر کې کله چې دغه خلق د دجّال مددګاران کيږي، او له هغه سره راوځي، نو د مسيح عليه السلام د مسلمانانو ملګرو له لاسه به وژل کيږي، كما ورد في الحديث.

وَقَطَّعْنَاهُمْ فِي الْأَرْضِ أُمَمًا ۖ مِّنْهُمُ الصَّالِحُونَ وَمِنْهُمْ دُونَ ذَٰلِكَ ۖ وَبَلَوْنَاهُم بِالْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿١٦٨﴾

او متفرق کړل مونږ دوی په ځمکه کې فرقې فرقې (چې هيڅ ملک ترې خالي نه دی)، ځينې له دوی څخه نېکان دي، او ځينې له دوی څخه رانسکته له دی (مرتبې د صلاح)، او وآزمويل مونږ دوی په نېکيو (نعمتونو لکه صحت، غنا) او په بديو (زحمتونو لکه مرض، فقر) ښايي چې دوی وګرځي (الله ته).

تفسير: د يهودانو دولت برهم شو، نو پخپلو منځونو کې د بې اتفاقۍ او مخالفت له کبله (وجې) هر طرف ته سره تيت او پرک (منتشر) شول، هيڅ يو اجتماعي قوت او شوکت يې پاتې نشو، او مختلف مذاهب پيدا شول، «دغه احوال ځمونږ محمدي امت ته د عبرت لپاره اورول شوي دي»، خو سره له هغه هم ځينې افراد په دوی کې نېک هم وو، مګر اکثر

يې کافران او فاسقان وو، د دغو اکثرو لپاره هم مونږ د رجوع او انابت الی الله ډېر مواقع پیدا کړي دي، کله مو دوی ته د عیش او تنعم ژوندون ورکړی دی، او کله مو دوی په سختې او تکلیف مبتلا کړي دي، چې ممکن دوی احسان ومني، یا له سختیو ځنې وویرېږي او توبه وباسي، او د الله تعالی په لوري رجوع وکړي.

فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٞ وَّرِثُواْ ٱلۡكِتَٰبَ يَأۡخُذُونَ عَرَضَ هَٰذَا ٱلۡأَدۡنَىٰ وَيَقُولُونَ سَيُغۡفَرُ لَنَا وَإِن يَأۡتِهِمۡ عَرَضٞ مِّثۡلُهُۥ يَأۡخُذُوهُۚ أَلَمۡ يُؤۡخَذۡ عَلَيۡهِم مِّيثَٰقُ ٱلۡكِتَٰبِ أَن لَّا يَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّ وَدَرَسُواْ مَا فِيهِۗ وَٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَۖ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ١٦٩

نو پاتې شول وروسته له دوی نه (داسې) بد خلیفګان چې وارثان شول د کتاب (تورات له پلرونو خپلو څخه حال دا چې) اخلي دوی مبلغ (او اسباب) د دې لږې خسیسي (دنیا په رشوت، د اخبارو او احکامو د تحریف په بدل) او وایي دوی: ژر به بخښنه وکړه شي مونږ ته، او حال دا که راشي دوی ته مبلغ (او اسباب نور) په مثل د دې نو اخلي دوی هغه(هم)، آیا نه وه اخیستې شوې له دوی څخه کلکه وعده په دې کتاب کې (بلکه آخیستې شوې وه داسې) چې نه به وایي دوی پر الله مګر حق (ربښتیا خبره)، او لوستي (او لولولي) وو دوی هغه احکام چې په دغه (تورات) کې وو، او دار د آخرت (جنت) خیر (ډېر غوره بهتر دی) لپاره د هغه کسانو چې ویریږي (له عذابه او ځان ساتي له حرامو)، آیا نو تاسې عقل نه کوئ، نه پوهېږئ (چې دنیا فاني او عُقبا باقي ده).

تفسیر: یعنې د دوی په رومبنیو پلرونو او نیکونو کې څه صالحین هم وو، خو د دوی وروستنۍ اولاده او ځوځات داسې ناخلفه شو؛ چې د هغه کتاب تورات شریف وارثان او حاملان وګرځېدل، د دنیا د لږ څه سامان په اخیستلو سره یې د ده په آیتونو کې په تحریف او کتمان شروع وکړه، رشوتونه یې واخیستل، او د تورات د احکامو په خلاف به یې فیصلې صادرولې.

وَٱلَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُصۡلِحِينَ ١٧٠

او هغه کسان (له دوی ځنې) چې ښه ټینګ نیسي کتاب او قائموي (سم اداء کوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ؛ بېشکه مونږ نه ضایع کوو ثواب (عوض، بدل) د نیکو کارانو (له دوی څخه).
تفسیر: یعنې دتوبې او د حال د اصلاح ور اوس هم پرانیستلی دی، هغه کسان چې د شریرانو لاره پرېږدي، او د تورات د اصلي هداياتو لاره ټینګه نیسي، او د هغه د هدایت او پخوا ویلو سره سم اوس د قرآنکریم لمن ټینګه نیسي، او د الله تعالی د بندګۍ (لمانځه او نورو) حقوق په ښه ډول سره اداء کړي، الغرض چې د ځان او نورو اصلاح ته متوجه کیږي؛ نو الله تعالی د هغوی اجر نه ضایع کوي، او دوی بلا شبهه د هغو خپلو محنتونو د خوږو مېوو او ثمراتو څخه خامخا خوړونکي دي.

وَإِذۡ نَتَقۡنَا ٱلۡجَبَلَ فَوۡقَهُمۡ كَأَنَّهُۥ ظُلَّةٞ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُۥ وَاقِعُۢ بِهِمۡ خُذُواْ مَآ ءَاتَيۡنَٰكُم بِقُوَّةٖ وَٱذۡكُرُواْ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٧١

او (یاد کړه ای محمده ! یهودو ته) هغه وخت چې راپورته کړ مونږ غر (د طور) د پاسه د دوی ګواکې دغه غر یو سایبان وو (لکه چترۍ د دوی په سر وه) او غالب ګمان وکړ (وویرېدل) دوی چې بېشکه هغه غر راپرېوتونکی دی پر دوی (له هوا که تورات ونه منې، او ومو ویل دوی

ته چې) ونيسئ تاسې هغه (تورات) چې درکړی مو دی تاسې ته په قوت (زور ښه کوښښ) سره، او یاد کړئ هغه احکام چې په ده کې دي، ښایي تاسې ته چې ځانونه وساتئ تاسې ! (له ګناهونو).

تفسیر: یعنې هغه میثاق الکتاب ـ عهد او اقرار چې له دوی څخه اخیستی شوی وو، او اوس دوی ته ور په یادولی شي، هغه په داسې یوه اهتمام سره اخیستی شوی وو، چې غر د دوی په سرونو باندې ځوړند شوی وو، او دوی ته داسې ویلي شوي وو، هغه شی تورات او نور چې تاسې ته درکاوه شي؛ هغه ټینګ ونیسئ !، او په ښه عزم یې وساتئ ! او هغه نصائح چې تاسې ته شوي دي؛ هغه تل پوره په یاد ولرئ ! او عمل پرې وکړئ، که نه د انکار په صورت کې وپوهېږئ چې الله تعالی دغه غر پر تاسې غورځوي، او هلاک کوي مو، افسوس دی چې هغه عهد او اقرار مو بیخي هېر کړی دی، چې په دومره اهتمام، تخویف، او تاکید له تاسې څخه اخیستی شوی وو، د «رفع الجبل» قصه په (اول جزء د البقرة په (٨) رکوع) کې تېره شوې ده، هلته یې وګورئ !.

وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰ أَنْفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ۖ قَالُوا بَلَىٰ ۛ شَهِدْنَا ۛ أَنْ تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَٰذَا غَافِلِينَ ﴿١٧٢﴾ أَوْ تَقُولُوا إِنَّمَا أَشْرَكَ آبَاؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِنْ بَعْدِهِمْ ۖ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُونَ ﴿١٧٣﴾

او (یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چې واخیست رب ستا له بني آدمو ځنې له شاګانو د دوی څخه اولادې د دوی، او شاهدان یې کړل دوی پر ځانونو خپلو باندې، (او وفرمایل الله دوی ته): آیا نه یم زه رب ستاسې؟ وویل دوی (او اقرار یې وکړ): هو ! (ته رب ځمونږ یې، په ربوبیت د الله)، ګواه کړه مونږ خپل نفسونه (د دې جهته) چې و (نه) وایئ تاسې په ورځ د قیامت کې چې بېشکه مونږ وو له دغه (توحیده) غافلان (ناخبران). یا (د دې جهته چې) و (نه) وایئ تاسې چې: بېشکه همدا خبره ده چې شرک غوره کړی وو پلرونو ځمونږ پخوا له (مونږه)، او وو مونږ اولاده پس له دوی نه (نو اقتدا کړې وه مونږ په هغو پسې)؛ نو آیا هلاکوې (په عذابوې ته یا الله !) مونږ په هغه کار باندې چې کړی وو باطله عمل کوونکو (مشرکانو).

تفسیر: شاه صاحب فرمایي چې: «الله تعالی د آدم علیه السلام له شا ځنې د ده اولاده او د اولادې له شاګانو ځنې یې د دوی اولاده وویسته، له ګردو (ټولو) ځنې یې د خپل الوهیت اقرار واخیست، بیا یې ببر ته په همغو شاګانو کې ور داخل کړل، له دې نه دغه مدّعا ده، چې د الله تعالی په مطلق رب منلو کې هر انسان د خپل ځان لپاره کفایت کوي، د پلرونو تقلید نه دی پکار، که پلار مشرک شي؛ نو په ځوی باندې یې لازم دي چې ایمان راوړي، که چا ته داسې یوه شبهه پیدا شي چې هغه عهد خو ځما په یاد نه دی پاتې، نو بیا څه حاصل؟ نو داسې دې وپوهیږي، چې د هغه نښه خو د هر انسان په زړه کې ده، او په ګردو ژبو باندې د هغه خبره جاري ده، چې د ګردو شیانو پیدا کوونکی الله جل جلاله دی، او پر دې باندې ټول جهان قائل دی، او هر چېرې مشهور دی، او هغه کسان چې منکران یا مشرکان شوي دي؛ نو دوی د خپل ناقص عقل په مداخله او ښوونې شرک غوره کړی دی، نو بیا دوی پخپله دروغجنان دي».

وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿١٧٤﴾

او همداسې (لکه قصّه د میثاق) په تفصیل سره بیانوو مونږ آیتونه او لپاره د دې چې دوی ښایي راوګرځي (له چتې ـ بېکاره تقلیده، او خپل فکر وچلوي).

تفسير: په «موضح القرآن» کې راغلي دي، چې دغه قصه يې يهودانو ته واوروله، چې هغوی هم له خپل عهده همغسې ګرځېدلي وو؛ لکه چې مشرکان ګرځېدلي دي.

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِي آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ ﴿١٧٥﴾
وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ ۚ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ ۚ إِن تَحْمِلْ
عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَث ۚ ذَّٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۚ فَاقْصُصِ الْقَصَصَ
لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٧٦﴾

او ولوله (ای محمده !) پر دغو (يهودانو يا قوم خپل) خبر (او حال) د هغه (سړي) چې ورکړی وو مونږ هغه ته (علم) د آيتونو خپلو؛ نو راووت (او بېزار شو په کفر او اعراض سره) له هغو آيتونو، نو ورپسې شو شيطان (او تېر يې ايست) نو شو له ګمراهانو . او که اراده فرمايلې وی مونږ؛ نو خامخا پورته کړی به وو مونږ دی په دې آيتونو سره (مقام الأبرار ته)، وليکن ده ميلان وکړ ځمکې ته او متابعت يې وکړ د هوا خپلې، نو مثال د ده (په خساست کې) په شان د سپي دی، چې که حمله وکړې پرې (يا يې کوری، چغه کړې او ويې شړې) نو ژبه راباسي او غاپي، او که يې پرېږدې (او څه ورته ونه وايې هم) ژبه راباسي او غاپي، دغه (تېر مثل) مثال د قوم هغه دی؛ چې دوی (له ډېره کبره او عناده) نسبت د دروغو کوي آيتونو ځمونږ ته، نو بيان کړه (دوی ته) دغه قصې (او احوال) ښايي چې دوی فکر وکړي (په کې او ايمان راوړي).

تفسير: د اکثرو مفسرينو په نزد دغه آيات د «بلعم بن باعوراء» په حق کې نازل شوی دی، چې يو يهودي عالم وو، وروسته ده د الله تعالی آيات او هدايات پرېښودل، او د يوې ښځې په اغواء او د دولت په طمع دموسی عليه السلام په مقابل کې د خپلو تصرّفاتو په چلولو او ناپاکو تدابيرو په کار آچولو لګيا شو، آخر يې موسی عليه السلام ته هيڅ زيان او نقصان ونه شو رسولی، او دی پخپله ابدي مردود شو.

د هغه الهي آيتونو علم چې «بلعم» ته ورکړی شوي وو، که الله تعالی اراده کړي وی؛ نو دی به د هغه په وسيله ډېرو لوړو مرتبو ته رسېدلی وو، او دغه هلته کېدی شو چې ده په خپل علم عمل کړی وی، او د الله تعالی د آيتونو د اتباع توفيق ور په برخه کېده؛ خو داسې ونشو، ځکه چې ده پخپله له آسماني برکاتو او آيتونو ځنې مخ واړاوه، او د ځمکې د شهواتو او لذّاتو په لوري متوجه شو، دی د نفس په غوښتنو پسې رهي (روان) وو، او شيطان ده پسې لوېدلې تعاقب يې کاوه، تر دې چې د پخو کېږو تلونکو او ګمراهانو په سلسله کې ورننووت.

په دغه وخت کې د ده حال د هغه سپي په شان شو؛ چې ژبه يې د باندې وتلي وي، او در ګرده غاپي او هونګيږي، که حمله پرې وکړې او کورې يې کړې؛ يا يې همغسې خوشې پرېږدې؛ په هر صورت سره هغه پرله پسې غاپي، هونګيږي او خپله ژبه يې ويستلې وي، ځکه چې په طبيعي ډول د زړه د کمزورۍ له وجې د تودې هوا په د باندې ايستلو او د سړې هوا په ننه ايستلو باندې په سهولت قادر نه دی.

همداسې په سفلي غوښتنو کې يې د سخت سا وهونکي سپي حال شو، چې د اخلاقي کمزورۍ له سببه په آيات الله پوهېدل او نه پوهېدل، تنبيه ورکول او نه کول دواړه حالتونه د ده په حق کې برابر شول: ﴿سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ﴾.

د دنيا له حرصه د هغه ژبه د باندې راوتلې او ځړېدلې وه، او د آيات الله د ترک له نحوسته د بد حواسۍ او د زړه د پرېشانۍ نقشه او حال د پرله پسې غېږدلو په مثال کې ظاهر شو.

ځينې وايي چې: دغه سړی أميه بن أبي الصلت وو، چې ده ته هم د ځينو پخوانيو کتابو علم ورکړی شوی وو، او په دې ښه خبر وو چې محمد صلى الله عليه وسلم آخر الزمان نبي دی، خو سره له هغه له ډېره کبره او حسده او عناده پرې کافر شو.

د آيتونو شان نزول هر څه چې وي په هر حال دلته د هواپرستانو انجام ښوولی شوی دی، چې د حق له قبلولو، يا له ښه پوهېدلو څخه وروسته، يواځې په دنيوي طمع او د سفلي غوښتنو په متابعت الهي احکام پرېږدي، او د شيطان پر اشاراتو دروميږي، او د الله تعالى دعهد او ميثاق هيڅ پروا نه کوي.

ګواکې يهودانو ته تنبيه وفرمايله شوه، چې يواځې علم الکتاب دومره نافع نه شي کېدی، تر څو پورې چې په صحيحه معنی سره د هغه اتباع ونه شي.

﴿مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا﴾ (٢٨ جزء د الجمعه سورت (٥) آيت (١) رکوع) بدو عالمانو لره په دغو آيتونو کې لوی عبرتناک پند او عبرت او سبق شته؛ که پرې غور او فکر وکړي.

سَاءَ مَثَلًا الْقَوْمُ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَأَنْفُسَهُمْ كَانُوا يَظْلِمُونَ ﴿١٧٧﴾

بد مثال دی (مثال د) قوم هغه چې نسبت د دروغو يې کړی وي آيتونو ځمونږ ته، او په ځانو خپلو وو دوی چې ظلم به يې کاوه (په کفر او معاصيو سره).

تفسير: د مشرکينو او نورو په ترديد کې په لوی قرآن کې ځای ځای د عنکبوت ذباب ـ غنې ـ مچ او نورو مثالونه بيان شوي دي مګر د دغو خلقو مثال په داسې بد ډول سره بيان شوی دی؛ چې هيڅ غيرتمن انسان حتى المقدور د هغه ممثل خپل ځان نشي ګرځولی، او هغه بې حيا او غدار چې خپل ځان د هغه مثال ګرځوي، نو هغه فقط د خپل ځان لپاره زيان رسوي.

مَنْ يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِي ۖ وَمَنْ يُضْلِلْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿١٧٨﴾

هر چا ته چې هدايت وکړي (سمه صافه لار وښيي) الله نو همغه د هدايت (او سمې صافې لارې) موندونکی دی، او هر هغه څوک چې ګمراه کړي (ده لره الله)؛ نو دغه ګمراهان هم دوی دي زيانکاران.

تفسير: علم او فضل هم هلته انسان ته په کار ورځي؛ چې د الله تعالى په هدايت او مرسته (مدد) له صحيح علم سره موافق د عمل توفيق ور په برخه شي، هغه علم چې انسان موَفّق نه کړي، چې د هغه په ښوونه په سمه لاره باندې لاړ شي، نو هر څومره چې دغه عالم علمي فضيلت او قابليت ولري؛ ودې پوهېږي چې پرته له زيان او خسارې څخه بل هيڅ شی به د ده په لاس ورنشي، نو ځکه انسان دې په خپل علم او فضل باندې مغرور نشي، بلکه تل دې له الله تعالى څخه هدايت او توفيق وغواړي.

وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ ۖ لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ بِهَا ۚ أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ ﴿١٧٩﴾

او خامخا په تحقيق پيدا کړي دي مونږ لپاره د جهنم (دوزخ) ډېر کسان له جن (پېريانو) او له انسانانو چې دي دوی لره (داسې بې معنی) زړونه چې هيڅ نه پوهېږي دوی په هغو سره (حق له باطله)، او دي دوی لره (داسې بې فائدې) سترګې چې نه وينې دوی په هغو

سره (نښې د قدرت)، او دي دوی لره (داسې بېکاره) غوږونه چې نه اوري په هغو سره (آيتونه د الله)، دغه کسان په شان د چارپايانو دي (د نفساني امور په اتّباع کې)، بلکه دوی (چې مکلّفان دي) ډېر ګمراهان دي (له چارپايانو ځنې)، دغه کسان همدوی دي غافلان (کاملان په بې خبرۍ کې).

تفسير: دغه آيت په ښکاره ډول د ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ له آيت سره معارض معلوميږي؛ نو ځکه ځينې مفسرين هلته د ﴿لِيَعْبُدُونِ﴾ لام د «غايت» لپاره او دلته په ﴿لِجَهَنَّمَ﴾ کې لام د «عاقبت» لپاره مرادوي، يعنې د ګردو (ټولو) له پيدا کولو ځنې اصلي مطلب خو عبادت دی، ليکن ځرنګه چې ډېر انسانان او پيريان به دغه مطلب پوره نه کړی شي؛ نو عاقبت به دوزخ ته ليږلي کيږي، نو د دغه عاقبت په لحاظ ويلی شو، چې ګواکې دوی دوزخ لپاره پيدا شوي دي، کما في قوله تعالى: ﴿فَالْتَقَطَهُ آلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا﴾.

خو د محققينو په نزد دغه تکلّف ته هيڅ حاجت نشته، او دوی په دواړو ځايونو کې لام د «غايت» لپاره بللی دی، مګر په ﴿لِيَعْبُدُونِ﴾ کې «تشريعي غايت» او دلته په ﴿لِجَهَنَّمَ﴾ کې «تکويني غايت» دی.

﴿لَهُمْ قُلُوبٌ﴾ الآيه ـ «چې دي دوی لره داسې بې معنی زړونه چې هيڅ نه پوهيږي په هغو سره حق له باطله الخ»، يعنې زړه، غوږونه، سترګې او نور ګرد شيان يې شته دي، خو نه په خپلو زړونو کې په آيات الله کې غور کوي، او نه د قدرت نښې د عمق او اعتبار په نظر مطالعه کوي، او نه الهي خبرې د قبول په غوږونو سره اوري.

ځرنګه چې د چارپايانو (حيواناتو) ګرد ادراکات يواځې د خوړلو او چښلو او بهيمي جذباتو په دائره کې محدود وي، هم دغسې د دوی حال هم دی، چې خپل زړونه، دماغونه، لاسونه، پښې، سترګې او غوږونو الغرض د الله تعالى نورې ورکړی شوې قواوې يواځې د دنيوي لذائذو او مادي غوښتنو د تحصيل او تکميل لپاره پکار اچوي، او له انساني کمالاتو او د ملکوتي خصائلو له اکتساب سره هيڅ سر او کار نه لري، بلکه که غور وکړ شي؛ نو د دوی حال له يوه لوري د حيواناتو له حاله هم بدتر دی، ځکه چې حيوان د خپل خاوند په بللو راځي، او د ده په رټلو او شړلو اوړي، مګر دوی له سره د خپل حقيقي مالک په غږ باندې غوږ نه ږدي.

وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ ۚ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٨٠﴾

او خاص الله لره دي (ټول) نومونه ډېر ښه؛ نو وبولئ دغه (الله) په همغو (ښو نومونو) سره او پرېږدئ هغه کسان چې (له ډېره جهله) الحاد (کوږوالی) کوي په نومونو د الله کې، ژر به سزا ورکړه شي دوی ته د هغو کارونو چې وو دوی چې کول به يې.

تفسير: پاک الله تل په ښو نومونو سره يادوئ ! او په ښو صفاتو يې وستايئ ! او هغه کسان چې د الله جل جلاله د اسماوو او صفاتو په نسبت کوږ تګ کوي؛ هغوی پرېږدئ ! دوی څه چې کوي همغه به مومي.

د الله تعالى د نومونو او صفتونو په متعلق کوږ تګ دا دی، چې په الله تعالى باندې د داسې نامه او صفت اطلاق وکړی شي؛ چې د هغه اجازه شريعت نه وي ورکړي، او د حق جل وعلا د تعظيم او اجلال سره لايق نه وي، يا د ده د مخصوص نامه او صفت اطلاق په غير الله باندې وشي، يا د هغو د معنی ګانو په بيانولو کې تأويل، لاندې باندې او وړاندې وروسته کول تر سره شي، يا يې په معاصي مثلا سحر او په نورو کې استعمال کړي، يا له خپله ځانه پاک الله ته نومونه سازوي، لکه چې يهودان يې «أبو المكارم» «پلار د کرمونو» او «أبيض الوجه» «سپين مخی» بولي، او نصارى يې «أبو المسيح» ـ پلار د مسيح بولي، او حکماء يې «العلة الأولى» «رومبنی علت» بولي، دغه ګرد کارونه تلل دي، کله چې د دوزخيانو بحث تېر شو، نو اوس د جنتيانو حال بيانيږي.

وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ ﴿١٨١﴾

او ځينې له هغو کسانو چې پيدا کړي دي مونږ يو امت (جماعت) دی؛ چې لاره ښيي خلقو ته په حقه، او په همدې (حق) سره برابري (انصاف) کوي (په ګردو (ټولو) معاملاتو کې).

تفسير: دغه جماعت محمدي مرحومه امت دی، علی صاحبها أفضل الصلوات والتسليم، چې دوی له هر راز (قسم) افراط او تفريط او کږو تللو ځخه ښل شوي دي، د صداقت، عدالت، ديانت، انصاف، او نورو محاسنو طريقه يې اختيار کړېده، او د همغو فضائلو په لوري نورو ته هم دعوت ورکوي، وروسته له دې نه د دې امت د مخالفينو او د حق تکذيب کوونکو ذکر راځي.

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٢﴾ وَأُمْلِى لَهُمْ ۚ إِنَّ كَيْدِى مَتِينٌ ﴿١٨٣﴾

او هغه کسان چې نسبت د دروغو کوي آيتونو ځمونږ ته ژر به ونيسو مونږ دوی له داسې لوري چې نه به پوهيږي دوی، او مهلت ورکوم زه دوی ته، بېشکه چې کيد (حيله، چال) ځما ډېر سخت دی.

تفسير: دروغجنو مجرمانو ته ډېر ځلې على الفور سزا نه ورکوله کيږي، بلکه د دنيوي عيش او عشرت او پراخې وَرونه ورپرانيستلی شي، تر دې چې د الهي سزا ځنې بې فکره او د جرائمو په ارتکاب کې لا زړور شي، او ورو ورو خپل ځانونه په ښکاره ډول د هغې انتهايي سزا مستحق ګرځوي، چې په دوی باندې جاري کېدونکې ده، همدغه د پاک الله مهلت ورکول او استدراج دی، مګر دوی له حماقت او بې حيايۍ نه داسې ګومان کوي؛ چې دا پر مونږ باندې د الله تعالى لورينه او مهرباني ده.

أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا۟ ۗ مَا بِصَاحِبِهِم مِّن جِنَّةٍ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿١٨٤﴾ أَوَلَمْ يَنظُرُوا۟ فِى مَلَكُوتِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَىْءٍ وَأَنْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَدِ ٱقْتَرَبَ أَجَلُهُمْ ۖ فَبِأَىِّ حَدِيثٍۭ بَعْدَهُۥ يُؤْمِنُونَ ﴿١٨٥﴾

آيا فکر نه دی کړی دغو (مکذبينو چې پوه شوي به وی په دې باندې) چې نشته په صاحب (ملګري) د دوی پورې هيڅ يو حال د لېونتوب، نه دی دغه (صاحب) مګر (خو دی) يو ويروونکی ښکاره. آيا نظر نه کاوه دوی (د استدلال په طريقې سره) په سلطنت د آسمانونو او د ځمکې کې، او په هغه کې چې پيدا کړي دي الله له هر شي ځخه، او (بل په دې کې فکر نه کوي) چې ښايي چې وي (دا خبره) چې په تحقيق سره نژدې شوې به وي وعده د دوی، نو په کومې يوې خبرې پس له دې (قرآنه) ايمان به راوړي دوی.

تفسير: يعنې آخر آيت الله ته د دروغو نسبت کول او د هغو له بد انجام ځخه د غافلېدو سبب څه شی دی؟، د دغو آيتونو راوړونکی محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم عاقل، کامل، او امين فاضل دی، هغه ګرد عمر له تاسې سره اوسېدلی دی، د هغه د ټولو وړو او لويو احوالو ځخه تاسې واقف يئ، د ده عقل، پوهه، امانت او ديانت لا له پخوا مسلّم او معروف دی، او له هغه ذات ځخه چې دغه کتاب راوړی شوی دی؛ هغه د ګرد عالم مالک، مطلق شهنشاه، او د هر څيزخالق دی، د هغه پر نهايت مضبوط او محکم نظام، سلطنت، بلکه پر ټولو وړو او لويو شيانو چې د الله تعالى مخلوقات دي؛ غور او فکر وکړئ.

مثلا هم دغو ارتو او لويو آسمانونو ته د استدلال په طريقه دقت وکړئ، چې په کې (۱۲) برجونه او رنګارنګ بښماره ستوري دي، چې ځينې يې سيارات او ځينې يې ثوابت دي، لمر او سپوږمۍ لري.

او دقت وکړئ د ځمکې په ارت او لوی ملک کې، چې په کې ډول ډول (قسم قسم) ونې، سيندونه، بحرونه، غرونه، حيوانات، خوځندې، الوتونکې او راز راز (قسم قسم) بادونه، وربځې او بارانونه شته، او هر هغه شيان چې پيدا کړي دي الله تعالى؛ هغه هم دوی ويني، لـه هـر شي چې د صانع الله جل جلاله کامل قدرت ورته معلوم شو؛ نو د دغو «تکويني» او «تنزيلي» آيتونو تصديق به وکړي، بيا نو د آيات الله په تسليم کې څه عذر باقي دی؟ !، ښايي دوی وپوهول شي، چې د دوی د موت او هلاکت وخت به قريب شوی وي، لهذا په هغه تياری کې چې بعث بعد الموت لپاره وکړی شي؛ ښايي چې جلتي او تيزي وشي ! او ښايي چې له بدو کارونو توبه ګار او ښو کارونو ته حرص او تلوار وکړي !.

مَنْ يُضْلِلِ اللّٰهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ ۭ وَيَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ۝

هر هغه چا لره چې ګمراه کړي الله؛ نو نشته هيڅ لار ښوونکی د (حق) ده ته، او (الله) پريږدي دوی په شرارتونو خپلو کې په دې حال کې چې حيران او سرګردانه ګرځي.

تفسير: هدايت او ضلالت دواړه لکه نور شيان د الله تعالى په قبضه کې دي، که الله جل جلاله اراده ونه فرمايي؛ نو ګرد د هدايت سامان همغسې پاتې کيږي، او سړی له هيڅ لوري نه منتفع کيږي، هو ! عادتاً هلته الله تعالى د هدايت توفيق ورکوي؛ چې بنده په خپل کسب او اختيار سره پر هغې لياړې تګ وکړي، او تلل پرې وغواړي، او هغه چې په لوی لاس يواځې بدی او شرارت ته ملا تړي؛ نو پاک الله هم وروسته له لار ښوولو څخه هغه په همغه خپل حال باندې پريږدي.

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰىهَا ۭ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ ۚ لَا يُجَلِّيْهَا لِوَقْتِهَآ اِلَّا هُوَ ۭ ثَقُلَتْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ لَا تَاْتِيْكُمْ اِلَّا بَغْتَةً ۭ يَسْـَٔلُوْنَكَ كَاَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا ۭ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝

پوښتنه کوي (منکران د قيامت) له تا نه (ای محمده !) له (حاله د) قيامت چې کله به وي وخت د قيام (ښکاره کولو د هغه)؟ ووايه (ته دوی ته): بېشکه خبره همدا ده چې علم د ده په نزد د رب ځما دی، نه ښکاروي دا قيامت (هيڅوک) په وخت د ده کې مګر (ښکاره وي يې) هم دغه (الله)، دروند دی (د قيامت ډار) په (مخلوقاتو) د آسمانونو او (په مخلوقاتو د) ځمکې، را به نشي دغه (قيامت) تاسې ته مګر (دربشي) ناڅاپه (بې خبره)، پوښتنه کوي دوی له تا نه (ای محمده !) ګواکې ته مبالغه کوونکی يې (په سوال کې) له قيامته (يعنې ته عالم يې په قيامت)؟ ووايه چې بېشکه علم د دغه (قيامت خاص) په نزد د الله دی، او ليکن زياتره خلق نه پوهيږي (په دې چې علم يې خاص الله لره دی).

تفسير: لومړی په ﴿وَّاَنْ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ قَدِ اقْتَرَبَ اَجَلُهُمْ﴾ کې خاص د هغه قوم د اجل او موت ذکر وو؛ چې هغوی ته هيڅ معلوم نه وو، چې اجل کله راځي، نو بيا دلته د ګردې دنيا د اجل قيامت په نسبت تنبيه فرمايي، کله چې چاته دخپل مرګ د وخت او نېټې اطلاع او خبر نه وي چې کله راځي؟ نو د دنيا د موت او اجل په نسبت څوک څه ويلی شي، چې په کوم تاريخ او په کومه نېټه به راځي؟ ! د دې تعيين علم پرته (علاوه) د علاّم الغُيوب الله جل جلاله بل هيڅ يو موجود سره نشته، همغه پاک الله په خپل معين او مقدر وخت کې قيامت واقع کوي، او دغه راښکاروي چې د الله تعالى په علم

کې د هغه وخت همدغه دی، پر آسمان او ځمکه باندې به دغه واقعه ډېره درنه و ي، او د هغه علم هم ډېر دروند دی، چې ما سوا الله بل چا ته حاصل نه دی، اګر که د دغې واقعې ډېر قرائن او امارات شته، چې نبیانو علیهم السلام بالخاصه ځمونږ آخر الزمان پیغمبر محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم بیان فرمایلي دي، خو بیا هم د دغو ګردو علائمو له ظهوره وروسته کله چې قیامت واقع کیږي؛ نو هغه به بیخي په بې خبرۍ یو ناڅاپه او دفعتاً پېښیږي، لکه چې د بخاري شریف او د نورو په احادیثو کې تفصیلا مذکور دي.

﴿يَسْـَٔلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا﴾ الآیه ـ د دې خلقو د سوال له طرزه ظاهریږي، چې ګواکې دوی ستاسې په نسبت داسې خیال کوي؛ چې ته د دې خبرې په تحقیق، تفتیش، پته او سراغ لګولو کې مشغول یې، او له تلاشه وروسته دې د هغه علم ته ځان رسولی دی، حال دا چې دغه علم حق جل وعلی شأنه سره مخصوص دی، او انبیاء علیهم السلام په هغو شیانو پسې دومره نه ګرځي، چې هغه د الله تعالی له جانبه د کوم مصلحت لامله (وجې) پټ ساتل شوي وي، او نه دغه کار د دوی په اختیار کې شته، چې که هر څه وغواړي؛ هغه په کوښښ سره ضرور معلوم کړي.

قُلْ لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِى نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۚ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ لَٱسْتَكْثَرْتُ مِنَ ٱلْخَيْرِ ۚ وَمَا مَسَّنِىَ ٱلسُّوٓءُ ۚ إِنْ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١٨٨﴾

ووایه (ای محمده دوی ته) چې زه نه لرم واک لپاره د نفس (ځان) خپل د (رسولو د) نفع او نه د (دفع کولو د) ضرر مګر هغه څه چې اراده وفرمایي الله، او که وی زه چې پوهېدلی په (خبرو د) غیب باندې؛ نو خامخا حاصل کړی به مې وی ډېر له خیر (نفعې) ځنې، او نه به وو رسېدلی ما ته کوم زیان، نه یم زه مګر (خو یم) ویروونکی (د کفارو په جحیم سره) او زېری کوونکی لپاره د (هغه) قوم چې مؤمنان دي (په نعیم سره).

تفسیر: په دغه آیت کې دا راښوول شوي دي؛ چې هر بنده اګر که ډېر لوی هم وي، مستقل اختیار او محیط علم نه لري، سید الأنبیاء محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته د دې خبرې د اعلان کولو حکم شوی دی، چې زه نورو ته لا څه چې خپل ځان ته هم څه ګټه (فائده) نشم رسولی، او نه ځان له زیان څخه ساتلی شم، مګر څومره چې الله تعالی وغواړي؛ هم هغومره زه اقتدار لرم، که زه پر ګردو غیبي خبرو پوهېدی؛ نو ډېرې ښېګڼې (فائدې) به مې د خپل ځان لپاره حاصلولې چې د غیبي علم د نه لرلو له سببه زیاتره فوتیږي، او هیڅکله هیڅ یوه نامناسبه واقعه به راته نه پېښېده، مثلا د «افک» په واقعه کې د څو ورځو له مخې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د وحیې د نه راتللو له سببه سخت اضطراب او قلق او پرېشاني ورپېښه شوه، په «حجة الوداع» کې یې صاف وفرمایل:

«لو استقبلت من أمري ما استدبرت لما سُقت الهدي» «که زه لا له پخوا پوهېدی په دغه شي باندې چې وروسته راپېښ شو؛ نو له سره به مې د (هدي) حیوان له ځان سره نه راووست»، داسې په سلهاوو نورې واقعې دي، چې د هغوی مخنیوی د «محیط علم» د لرلو په صورت په ډېره آسانۍ سره ممکن وو.

ګواکې دا یې ښوولې ده چې «علم المحیط» پرته له الله تعالی ځنې بل هیچا ته نه دی حاصل، او علم الغیب خو لا پرېږدئ ! د محسوساتو او مبصراتو پوره علم هم د الله تعالی په عطا کولو سره حاصلیږي، که الله تعالی اراده ونه فرمایي نو مونږ د محسوساتو ادراک هم نشو کولی.

په هر حال په دغه آیت کې په ښکاره ډول سره راښوول شوي دي، چې مستقل اختیار یا محیط علم د نبوت له لوازمو ځنې نه دی، لکه چې ځینې جاهلان یې اټکلوي، هو ! د شرعیاتو علم چې د انبیاوو علیهم السلام له منصب او وظیفې سره ربط لري؛ ښایي هغه کامل کړي.

هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا فَلَمَّا تَغَشَّاهَا حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيفًا فَمَرَّتْ بِهِ فَلَمَّا أَثْقَلَت دَّعَوَا اللَّهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ آتَيْتَنَا صَالِحًا لَّنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ ﴿١٨٩﴾ فَلَمَّا آتَاهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهُ شُرَكَاءَ فِيمَا آتَاهُمَا فَتَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٩٠﴾

همدغه (الله) هغه ذات دی، چې پیدا کړي یې یئ تاسې له نفس یوه څخه او پیدا کړي یې ده له دې نفس څخه ښځه د ده، لپاره د دې چې آرام ونیسي له دې سره، نو کله چې نارینه پټه کړه دغه ښځه (یعنې جماع یې ورسره وکړه) نو حامله شوه په حمل خفیف (سپک سره)؛ نو ګرځېده (تله راتله) به له دې حمل سره، نو کله چې دروند شو حمل نو سوال وکړ دواړو له الله رب خپل نه، چې قسم دی خامخا که راکړې ته مونږ ته صالح (کامل روغ ولد)؛ نو خامخا شو به مونږ هرو مرو له شکر ایستونکو (په دې نعمت). نو کله چې ورکړ (الله) دوی ته صالح (ولد)؛ نو وګرځول دوی دواړو الله ته شریکان په (نامه د) هغه کې چې ورکړ دوی ته (الله)، نو پورته دی الله له هغه چې دوی (او اولاده د دوی) یې شریکوي (له ده سره).

تفسیر: الله تعالی ګرد انسانان له آدم علیه السلام څخه پیدا کړل، او د آدم علیه السلام د انس او سکون او د قرار د حصول لپاره یې د ده له وجوده د ده جوړه حواء رضي الله تعالی عنها پیدا کړه، بیا له دوی دواړو ځنې نوره اولاده او ځوځات پیدا شول.

کله چې یو نارینه له خپلې ښځې خپله فطري غوښتنه حاصله کړي؛ نو ښځه حامله شي، د حمل په ابتدایي حالت کې هیڅ دروندوالی نه وي، او حسب المعمول به ښځه تله راتله، او ناسته ولاړه کوي، ځکه چې تشه نطفه وي، کله چې ګډه یې د ولد د لویېدلو په سبب راپورته شي؛ نو په دې باندې هیڅوک خبر نه وو، چې د دې په منځ کې څه شی پټ دي، آیا انسان دی که حیوان؟ نو نارینه او ښځې دواړو د حق تعالی په دربار کې عرض وکړ، که ته له خپله فضله یو ښه روغ رمټ او د کار وړ او صالح وړوکی مولود را عنایت کړې، نو مونږ دواړه بلکه ځمونږ نسل به هم ټول ستا شکر اداء کوو، کله چې الله تعالی د دوی دغه تمنّا پوره کړه، نو دوی ځمونږ په ورکړی شوي شي کې د نورو د برخو په ټاکلو (مقررولو) یې شروع وکړه، مثلا ځینې په دې عقیده شول، چې دغه اولاد فلاني ژوندي یا مړ مخلوق مونږ ته راکړی دی، ځینې په دې عقیده نه وو خو عملاً به یې د هغه په نذر او نیاز شروع وکړه، یا به یې د مولود وچولی (تندی) د هغه په مخکې په سجده کېښوده، یا به یې په مولود باندې داسې نوم کېښوده، چې له هغه څخه به د شرک بوی راته، لکه عبد العزّی، عبد الشمس او داسې نور، لنډه دا چې په دغه صورت کې به د حقیقي منعم حق اعتقادا یا فعلا یا قولا نورو ته ورکول کېده.

ښه وپوهېږئ چې حق تعالی د شرک د ګردو انواعو او مراتبو څخه لوړ او لوی او اعلی دی، په دغو آیتونو کې د حسن بصري «رحمه الله» او نورو له رایه سره موافق خاص آدم علیه السلام او حواء رضي الله تعالی عنها مقصود نه دي، بلکه د عامو انسانانو د حالت نقشه ایستلې شوې ده، ښکه ابتداء په ﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا﴾ کې د تمهید په ډول د آدم علیه السلام او حواء رضي الله تعالی عنها ذکر وو، مګر له هغه وروسته د مطلق نر او ښځې ذکر شوی دی، او داسې په ډېرو ځایونو کې کېږي، چې د شخص له ذکره د جنس په لوري انتقال مرادوي لکه په ﴿وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ وَجَعَلْنَاهَا رُجُومًا لِّلشَّيَاطِينِ﴾ کې هغه ستوري چې په ﴿بِمَصَابِيحَ﴾ سره یاد شوي دي، هغه لوښدونکي ماښدونکي ستوري نه دي، چې په هغو د شیاطینو ویشتل په عمل راځي، مګر له شخص د ﴿بِمَصَابِيحَ﴾ څخه جنس مصابیح ته د کلام انتقال شوی دی.

تنبيه: حافظ عماد الدين ابن كثير «رحمه الله» ويلي دي چې: «كومو روايتونو كې چې راغلي دي، چې آدم او حواء عليهما السلام خپل ځوی ته «عبد الحارث» نوم كښود، هغه له درې جهته معلول دي:

(١): عمر بن ابراهيم البصري د يوه حديث په سند كې راغلی دی، او ابو حاتم «رحمه الله» د هغه په اړه وايي: «لا يحتجُّ به».

(٢) په ځينو نورو روايتونو كې دا قول په سمرة رضي الله تعالى عنه باندې موقوف دی، او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې نه دی مرفوع كړی.

(٣): حسن بصري «رحمه الله» چې د دغه روايت راوي هم دی؛ خو پخپله يې د دغه آيت شريف تفسير دغه شان نه دی كړی، كه دغه روايت صحيح وی، نو حسن رحمه الله به وربانديې په دغه تفسير كې اعتماد كړی وو، ځكه هغه وايي چې د ﴿جَعَلَا لَهُۥ شُرَكَآءَ﴾ نه مراد آدم او حواء عليهما السلام نه دي، بلكه د هغه اولادې څخه نور خلك مراد دي، لكه يهود او نصارى، او همدا ښه او بهتر تفسير دی اهـ.

(٤): دا حديث حسن بصري «رحمه الله» د سمرة رضي الله تعالى عنه څخه روايت كړی دی، او د محققينو محدثينو تحقيق دا دی، چې حسن بصري له سمرة رضي الله تعالى عنه څخه يواځې د عقيقې حديث اورېدلی دی، او نور يې ورڅخه نه دي اورېدلي، نو هغه ټول منقطع دي.

او هر چې كوم آثار د أهل علم څخه په دغه باب كې نقل شوي دي؛ نو كېدای شي له أهل كتابو څخه يې اورېدلي وي، او په اسلامي شريعت كې داسې څه نشته چې د دغه روايتونو تأييد وكړي، نو كه تكذيب يې ونه كړو، نو تصديق يې هم نشو كولای، سره له دې چې په وروستي غوراوي كې د يو جليل القدر پيغمبر په شان كې طعن هم راځي، نو له دې كبله لكه چې ابن كثير «رحمه الله» وايي: «ځمونږ په وړاندې افضل، راجح، او بهتر د حسن بصري «رحمه الله» قول دی، چې مراد ورڅخه آدم او حواء نه، بلكه د هغوی اولاد يهود او نصارى دي».

أَيُشْرِكُونَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْـًٔا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴿١٩١﴾

آيا شريك ګرځوي دوی (له الله سره) هغه شی چې نشي پيدا كولی هيڅ ځيز حال دا چې دغه (بُتان) پيدا كړل كيږي (يعني دوی پخپله بل چا پيدا كړي دي، نو څرنګه به خالق د بل چا شي؟).

وَلَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُمْ نَصْرًا وَلَآ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿١٩٢﴾ وَإِن تَدْعُوهُمْ إِلَى الْهُدَىٰ لَا يَتَّبِعُوكُمْ ۖ سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ أَدَعَوْتُمُوهُمْ أَمْ أَنتُمْ صَٰمِتُونَ ﴿١٩٣﴾ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ ۖ فَادْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُوا لَكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٩٤﴾ أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ ءَاذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا ۗ قُلِ ادْعُوا شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ ﴿١٩٥﴾

او طاقت نه لري (دا بتان) لپاره د دغو (عابدانو خپلو) د مرستې كولو او نه له ځانونو خپلو سره مرسته (مدد) كولی شي. او كه تاسې راوبولئ دوی سمې صافې لارې ته؛ نو نه كوي متابعت دوی ستاسې، برابره ده پر تاسې (دغه خبره) چې آيا بولئ تاسې (دوی) او كه يئ تاسې چپ (د دوی له بلنې څخه). بېشكه هغه كسان چې عبادت كوئ تاسې (ای مشركانو ! د دوی او بولئ يې) بې له الله؛ مملوكان دي په شان ستاسې، نو وبولئ تاسې دوی؛ نو ودې مني دوی (دغه بلنه)

ستاسې که يئ تاسې صادقان (رښتيني په دغه دعوی کې چې دوی معبودان دي). آيا شته دوی ته (داسې) پښې چې تلل کوي دوی په هغو سره؟ آيا شته دوی ته (داسې) لاسونه چې نيول کوي دوی په هغو سره؟ آيا شته دوی ته (داسې) سترګې چې ليدل کوي دوی په هغو سره؟ آيا شته دوی ته (داسې) غوږونه چې اورېدل کوي دوی په هغو سره (بلکه دا شيان دوی لره نشته، پس له تاسې څخه هم بدتر شول، نو تاسې څنګه د دوی عبادت کوئ؟ !) ووايه (ای محمده ! دوی ته): چې را وبولئ تاسې شريکان خپل (د امداد لپاره) بيا (په خپلو تدبيرونو) ضرر ورسوئ ماته پس مهلت مه راکوئ تاسې ماته (هيڅ قدر).

إِنَّ وَلِيِّيَ اللَّهُ الَّذِي نَزَّلَ الْكِتَابَ ۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى الصَّالِحِينَ ﴿١٩٦﴾

بېشکه ولي «ناصر او ساتونکی» مې الله دی، هغه چې توټه توټه يې نازل کړی دی کتاب، او همدغه (الله حمايت) ساتنه کوي د صالحانو (او کارونه يې جوړوي).

تفسير: يعنې هغه الله جل جلاله ځما ولي، بادار او مرستيال دی؛ چې پر ما باندې يې وار په وار کتاب (قرآن) نازل کړی دی، او د رسالت پر منصب باندې يې فائز کړی يم، هم دغه پاک الله به زما حمايت، حفاظت او صيانت د ګردې دنيا په مقابل کې وکړي، ځکه چې همدغه الله تعالی د خپلو نېکو بندګانو حفاظت او اعانت کوي، بالخاصّه د انبياوو عليهم السلام.

وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلَا أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿١٩٧﴾ وَإِن تَدْعُوهُمْ إِلَى الْهُدَىٰ لَا يَسْمَعُوا ۖ وَتَرَاهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿١٩٨﴾

او (بېشکه) هغه (معبودان) چې يې بولئ تاسې يې له الله؛ طاقت نه لري دوی د نصرت (مرستې کولو) ستاسې، او نه د ځانونو خپلو سره مرسته (مدد) کولی شي (نو زه يې څه پروا لرم). او که راوبولئ تاسې دوی په جانب د هدايت (د سمې صافې لارې)؛ نو هيڅ نه اوري دوی، او وينې به ته (ای محمده !) دوی چې ګوري به دوی تاته حال دا چې دوی به هيڅ نه وينې.

تفسير: يعنې په ښکاره سره دوی د سترګو خاوندان دي، خو په کې د ليدلو قوت او د کتلو قدرت او د بينايې نور او د بصارت ظهور چېرې دی؟

د ﴿تَدْعُوهُمْ﴾ فاعل که مشرکين شي، نو د (هُم) ضمير بُتانو ته راجع کيږي، يعنې که وبولئ تاسې ای مشرکانو دا بتان ښو کارو ته، نو دوی نه اوري، او که د ﴿تَدْعُوهُمْ﴾ فاعل مؤمنين شي؛ نو د (هُم) ضمير مشرکانو ته راجع کيږي، يعنې که وبولئ تاسې ای مؤمنانو دا مشرکان ښو کارونو ته؛ نو دوی ستاسې بلنه نه مني.

خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ ﴿١٩٩﴾ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ ۚ إِنَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٠٠﴾

ونيسه (ای محمده ! عادت د) عفوې کولو، او امر (حکم) وکړه په معروف (نېکو کارونو) سره، او مخ وګرځوه ! (په څنګ شه !) له جاهلانو (ناپوهانو ليونيانو) څخه. او که باعث او تېز کړي تا (په معصيت) له طرفه د شيطان کومه وسوسه؛ نو پناه وغواړه په الله پورې، بېشکه دغه (الله) ښه اورېدونکی ښه عالم دی (د ټولو اقوالو په ګردو احوالو).

تفسير: د ﴿خُذِ الْعَفْوَ﴾ څو معناګاني شوي دي، د زياترو حاصل دا دی، چې له سختګيرۍ او تندخويۍ ځنې پرهېز وکړه د مؤمنانو په مقابل کې، څو د قهر او غضب له امله (وجې) دوی در څخه تار په تار نشي، او محقق شيخ الهند «رحمه الله» همدغه معنا د «عفوې په عادت نيولو» سره تعبير کړېده.

ځينې د دې آيت ترجمه داسې هم کوي، «واخله ای محمده ! د غنيانو هغه زياتي مالونه او هغه چې آسان وي دوی ته، (او دا حکم د زکات له وجوب څخه پخوا وو) او امر وکړه خلقو ته په نېکۍ سره، او مخ وګرځوه له ناپوهانو، او مه کوه ورسره جنګ، (او دا اعراض هم د جهاد له فرضيت څخه پخوا وو) او که ورسېرې تاته ای محمده ! له طرفه د شيطانه څه وسوسه چې په جګړه کې دې واچوي له جاهلانو سره؛ پس پناه ونيسه په الله سره چې در څخه دفع کړي هغه وسوسه الخ».

إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِّنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوا فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ ﴿٢٠١﴾ وَإِخْوَانُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِي الْغَيِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُونَ ﴿٢٠٢﴾

ببشکه هغه کسان چې ويريږي (له الله او ځان ساتي له ګناه) کله چې ورسېرې دوی ته کومه وسوسه (او ګذر) له طرفه د شيطانه؛ نو ياد کاندي دوی (حکم د الله او وينې شي) پس ناڅاپه دوی ليدونکي وي (د حق)، او وروڼه د دوی (چې شيطانان دي) راکاږي (چلوي) دغه (کفار) په ګمراهی کې، بيا نه کوي دوی تقصير (له ښويولو د کفارو يا کفار تقصير نه کوي په متابعت د شياطينو کې).

تفسير: اګر که د استعاذې حکم ګردو (ټولو) لره شامل دی، خو خطاب لومړی يواځې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ته وو، اوس د عامو متقيانو او د ګردو (ټولو) پرهېزګارانو د حال بيان فرمايي، يعنې د عامو متقيانو په حق کې دغه محال نه دی، چې د شيطان ګذر د هغوی په لوري وشي، او خپله کومه وسوسه د هغوی په زړونو کې واچوي، هو ! د متقيانو شان داسې وي، چې د شيطان له اغواء او تېرايستلو ځنې تل په غفلت کې نه پاتې کيږي، بلکه که لږ څه غفلت ورپېښ شي؛ دستي پاک الله يادوي، وېښ او په سد کيږي، که يې ولغزي؛ نو سمدلاسه ځان نيسي.

باقي د غير متقيانو چې د دوی په زړو کې د الله تعالی وېره نه وي، او خپل ځان له ګناهونو څخه نه ساتي، او ښايي دوی ته د شيطان وروڼه وويل شي، د دوی حال دا دی، چې شيطان تل دوی د ګمراهی په لوري کشوي، او ورښايسته کوي يې، او د دوی په تېرايستلو کې هيڅ قصور او کمی نه کوي.

وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِم بِآيَةٍ قَالُوا لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا قُلْ إِنَّمَا أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ مِن رَّبِّي هَٰذَا بَصَائِرُ مِن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠٣﴾

او تر هغه وخته پورې چې رانه وړې (ته ای محمده !) دوی ته کومه معجزه (چې دوی يې غواړي نو) وايي دوی: ولې دې (له خپله ځانه) غوره (جوړه) نه کړه داسې معجزه؟ نو ووايه: ببشکه همدا خبره ده، چې زه متابعت کوم د هغه څه چې وحي کولی شي ماته له طرفه د رب ځما (او زه نه يم راوړونکی د معجزې له خپله ځانه)، دغه (قرآن ټول دلائل د) پوهنې دي له (جانبه ده) رب ستاسې، او هدايت او رحمت دی لپاره د (هغه) قوم چې مؤمنان دي دوی.

تفسير: د نبي وظيفه يواځې همدغه ده، چې هر هغه شی چې الله تعالی په وحي سره نازلوي؛ قبول يې کړي، او پرې تګ او عمل وکړي، او نورو ته هم پر هغه باندې د عمل کولو دعوت ورکړي، باقي هغه تنزيلي او تکويني آيتونه چې تاسو

يې له ما ځنې غواړئ؛ نو کوم آيت او معجزه به له پاک قرآن ځنې لويه او لوړه وي؟ ځکه چې دغه عظيم الشأنه معجزه د ګرد (ټول) جهان لپاره د بصيرت زياتوونکو حقائقو او مواعظو خزانه ده، او ايمان راوړونکو ته د يوه خاص قسم هدايت او رحمت ذخيره منځ کې لري، تاسې دغه عظيم الشأن قرآن کله ومانه ! چې بيا به هغه فرمايشي معجزه ومنئ؟ !.

وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٢٠٤﴾

او کله چې ولوستلی شي قرآن؛ نو غوږ کېږدئ تاسې هغه ته او چپ اوسئ تاسې، لپاره د دې چې رحم درباندې وشي.

وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُنْ مِنَ الْغَافِلِينَ ﴿٢٠٥﴾

او يادوه ته (ای بنده !) رب خپل په زړه خپل کې په زاړۍ او وېرې سره او کم له هسکه (اوچته) غږه له وينا، په لومړنيو برخو د سبا کې، او په وروستنيو برخو د ښکا کې، او مه کېږه (ای ځما بنده) له غافلانو (بې خبرانو !).

تفسير: لوی ذکر خو عظيم الشأن قرآن دی، چې د هغه د ادب بيان اوس تېر شو، په دغه آيت کې د «ذکر الله» څه آداب په عمومي توګه بيان فرمايي، يعنې د «ذکر الله» اصلي روح همدا دی، هغه شی چې په ژبه ويل کيږي؛ د زړه توجه دې هم د هغه په لوري وي، تر څو د «ذکر الله» پوره خوند او نفع ظاهره شي، او ژبه او زړه دواړه د الله تعالی په ياد کې مشغول شي، د ذکر الله په وخت کې ښايي چې په فکر کې دقّت او په زړه کې رقّت وي، او په صحيح رغبت، مينه او رهبت (وېره) سره د الله تعالی په ياد کې مشغول او لګيا شي !، او داسې وضعيت او هيئت دې خپل ځان ته غوره کړي، لکه چې کوم ويرېدونکی خوشامند کوونکی انسان يو لوی بې مثله ذات ته عرض او فرياد کوي، ښايي چې د ذاکر په لهجه، غږ او هيئت کې دې د تضرّع، وېرې او خوف اثر او رنګ محسوس وي، د ذکر او مذکور له عظمت او جلاله د غږ ورو کېدل يو طبيعي او قدرتي امر دی: ﴿وَخَشَعَتِ الْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمَٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا﴾ (١٦ جزء د طه سورت (١٠٨) آيت (٦) رکوع)، نو ځکه له په زوره ذکر کولو څخه ممانعت راغلی دی، که په ورو غږ او توجّه سره په خفيه يا په جهر سره د الله تعالی ذکر وکړي؛ نو الله تعالی به هم د هغه ذکر کوي.

إِنَّ الَّذِينَ عِنْدَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَيُسَبِّحُونَهُ وَلَهُ يَسْجُدُونَ ﴿٢٠٦﴾ ۩

بېشکه هغه (ملائکې) چې په نزد د رب ستا کې (مقربې) دي؛ نه کوي تکبر (لويي) دوی له عبادت د دغه (الله) څخه، او پاکي وايي په هر وخت د دغه (الله) او خاص هم دغه الله ته سجدې کوي.

تفسير: يعنې په شپه او ورځ مخصوصاً د سبا او ښکا په اوقاتو کې د الله تعالی له ياده مه غافل کېږئ، کله چې مقربې ملائکې د الله تعالی له بندګۍ ځنې عار نه کوي، بلکه همېشه د الله جل جلاله په يادولو او ذکر کولو کې لګيا او مشغولې دي، او هم دغه رب العالمين ته سجدې کوي؛ نو انسانانو ته لا ضروري ده، چې د اله العالمين جل جلاله له ذکر او عبادت څخه غافل نشي !، بنا پر دې د دې آيتونو له لوستلو څخه وروسته ښايي چې د تلاوت سجده هم وکړه شي !.

(تمّت سورة الأعراف بفضل الله تعالى)

سُورَةُ الأَنفَالِ

«د (الأنفال) سورت مدني دی، پرته له (۳۰) آیت څخه د (۳۶) آیت تر آخره پورې چې مکي دي، (۷۵) آیتونه او (۱۰) رکوع لري، په تلاوت کې (۸) او په نزول کې (۸۸) سورت دی، د (البقرة) له سورت څخه وروسته نازل شوی دی».

دغه سورت د «بدر» له غزا څخه وروسته په مدینې منورې کې نازل شوی دی، د هجرت په دویم کال کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته معلومه شوه، چې یوه لویه تجارتي قافله د ابو سفیان په مشرۍ له شام څخه رهي (روانه) شوې ده، د ابو سفیان دغه تجارتي قافله «جوپه» چې په هغې کې تقریباً «۶۰» تنه قریش او یو زر اوښان او پنځوس زره دیناره مال وو، کله چې له شام څنې د مکې معظّمې په لوري د کاروان د بهرته راګرځېدلو خبر نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ورسېد.

نو د «صحیح مسلم» له یوه روایت سره سم رسول الله مبارک له اصحابو سره مشوره وکړه، چې آیا پر دغه جماعت باندې تعرض وکړو؟ د دغې جرګې د دې وضعیت له لیدلو څنې ابو بکر الصدّیق او عمر الفاروق او رئیس الانصار سعد بن عبادة رضي الله تعالی عنهم أجمعین حوصله زیاتوونکې خطبې وویلې او ښې ویناوې یې وکړې.

بالآخر رسول اکرم صلی الله علیه وآله وصحبه وسلّم له درې سوو او څو تنو مجاهدینو سره؛ هغه کسان چې په هماغه وخت کې سره ټول شوي وو، له خپلو معمولي سامانونو سره رهي (روان) شوي وو.

په دې باره کې د بخاري شریف په روایت کې «کعب بن مالک رضي الله تعالی عنه» فرمایي: «هغه کسان چې د بدر په غزا کې شریک شوي نه وو؛ په هغوی باندې کوم عتاب نازل نشو، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یواځې د تجارتي قافلې د مهم لپاره وتلی وو، اتفاقاً الله تعالی د یوه اساسي جنګ صورت ورپیدا کړ.

ابو سُفیان د رسول الله مبارک له دغې ارادې څنې خبر شو، او سمدلاسه یې مکّې معظمې ته سړی واستاوه، له هغه ځایه تقریبا د زرو تنو لښکر چې د قریشو لوی لوی سرداران او مشران هم په کې شامل وو؛ له پوره وسلو، سامانونو، لوازمو او تجهیزاتو سره د مدینې منورې په لوري رهي (روان) شو.

رسول الله مبارک د «صفراء» په مقام کې وو، چې دا خبره ورمعلومه شوه، چې د ابو جهل او د نورو لویو لویو «ائمة الکفر» تر مشرۍ لاندې لوی لښکر په ډېر زور او شور او غیظ او غضب د اسلام د مقابلې لپاره را رهي (روان) شوی دی، د دې غیر متوقع صورت له پېښېدلو څخه وروسته رسول الله مبارک بیا خپلو اصحابو کرامو ته د دې خبرې اطلاع هم وکړه، چې په دغه وخت کې دوه جماعته ستاسې په مخکې دي:

(۱) تجارتي قافله.

(۲) فوځي لښکر، د الله تعالی اراده داسې ده، چې له دغو دوو ټولیو څخه پر یوه باندې به تاسې مسلط وګرځئ، تاسې دا راوښیئ، چې له دغو دواړو ډلو څنې پر کومې باندې تعرّض او یرغل (حمله) کول غواړئ؟ او د هغه د مقابلې لپاره تیار یئ؟ ځرنګه چې دغه اسلامي لښکر خپل پوره تیاری جهاد ته نه وو کړی؛ ځینو افرادو چې خپل لږ سامان، وسلو، او اسبابو او د تعداد قلّت (کمی) ته وکتل نو داسې رایه یې ورکړه چې: پر تجارتي قافلې باندې یرغل (حمله) زیات مفید او آسان دی، مګر دغه رایه د رسول الله نه وه خوښه، ابو بکر صدیق، عمر فاروق، او مقداد بن الأسود رضي الله تعالی عنهم أجمعین په ډېر ځوښ (جوش) سره غیرت راوړونکې ویناوې وکړې، په آخر کې سعد بن معاذ رضي الله تعالی عنه تقریر وکړ.

وروسته داسې فیصله وشوه، چې د عسکریت په ډګر کې ښایي چې مونږ د اسلامي شجاعت جوهر وښیو، ځنګه چې د بدر په مقام کې دغه دواړه د حق او باطل فوځونه سره مخامخ شول، الله تعالی مسلمانانو ته لوی بری عنایت او ور په برخه کړ، د کافرانو (۷۰) تنه لوی لوی سرداران ووژل شول، او (۷۰) تنه یې بندیان شول، په داسې ډول د کفّارو زور مات شو.

په دغه سورت کې عموما د همدغې غزا جزئيات او متعلقات بيان شوي دي، هغه کسان چې داسې خيال کوي، چې په دغه غزا کې رسول الله مبارک له ابتداء څخه د هغه لښکري قوت د مقابلې لپاره وتلی وو، چې د تعرض په مقصد د مدينې منورې په لوري رهي (روان) شوی وو، او د قريشو په تجارتي قافلې باندې د حملې په نيت له اوله تر آخره پورې هيڅ نه وو وتلی؛ نو د دې عقيدې خاوندان في الحقيقت غواړي، چې د حديثو، سيرو، او د قرآني اشاراتو ټولې ذخيرې له خپلو مجعولاتو ځنې قربان کړي.

د دې مسئلې تفصيل په «الجهاد الكبير» او «الشهاب» کې ليکلی شوی دی، او ځای په ځای په دغو صفحاتو کې هم نور لازم معلومات د هغه په نسبت ليکلي کيږي، ان شاء الله تعالى.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ ۭ قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَصْلِحُوْا ذَاتَ بَيْنِكُمْ ۠ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗٓ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّعَلٰي رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۝ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ۭ لَهُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ۝

پوښتنه کوي دوی له تا نه (ای محمده !) له (حکمه د) غنائمو څخه، ووايه (دوی ته چې اموال د) غنيمتونو خاص الله لره دي او رسول (د الله) لره دي (چې تقسيم يې کړي سم له شرعي اصولو سره)، پس وويرېږئ تاسې له الله نه، او اصلاح وکړئ تاسې د هغه حال چې په منځ ستاسې کې دی (يعنې پخپلو منځونو کې سره دوستي وکړئ ! او نزاع پرېږدئ)، او حکم ومنئ تاسې د الله او (حکم ومنئ تاسې) د رسول د الله که يئ تاسې مؤمنان (په حقه سره). بېشکه خبره همدا ده چې حقّاني مؤمنان هغه کسان دي کله چې ياد کړی شي (دوی ته نوم د) الله؛ نو ويرېږي زړونه د دوی، او کله چې ولوستی شي پر دوی باندې آيتونو (کلام) د الله؛ نو زياتوي دغه (آيتونه) دوی لره ايمان (د دوی)، او پر رب (پالونکي) خپل باندې توکل (اعتماد) کوي دوی. (دوی) هغه (مؤمنان) دي چې قائموي (سم اداء کوي سره له ټولو حقوقو) دوی لمونځ، او له ځينې د هغه ماله چې ورکړی دی مونږ دوی ته؛ نفقه کوي (لګوي په لاره د الله کې). دغه کسان همدوی دي مؤمنان په حقه سره، شته دي دوی ته درجې په نزد د رب د دوی او مغفرت (بخښنه) او رزق نېک (د عزّت).

تفسير: «أنفال» جمع د «نفل» دی، او غنائمو ته ځکه «نفل» وايه شي، چې رب العزت د فضل او مرحمت محض يوه عطا ده، په بدر کې هغه د غنيمت مال چې په لاس راغلی وو؛ په اصحابو کرامو کې د هغه په نسبت نزاع وه، هغه ځلميان چې مخکې وړاندې تللي وو او جنګونه يې کړي وو؛ دوی د غنيمت ګرد اموال خپل حق ګڼه، پاخه او سپين ګيري سړي چې د ځلميانو تر شا ولاړ وو؛ داسې به يې ويل چې: «مونږ په لار ښوونه او اعتماد تاسې ته دغه توره، فتحه او بری په برخه شوی دی، نو ځکه ښايي چې غنيمت مونږ ته هم راکړ شي» هغه جماعت چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم حفاظت يې کاوه، او ددوی په مبارک حضور کې حاضر ولاړ وو، دوی هم خپل ځانونه د دغو اموالو مستحق بلل، په دغو آيتونو کې دغه خبره ښوولې شوې ده، چې فتح يواځې د الله تعالى په مرسته (مدد) ستاسې په برخه شوې ده، د بل هيڅ يوه په توره، زور، تدبير، لارښوونه او اعتماد سره تاسې هغه نه ده حاصله کړې، نو د دغو اموالو مالک الله ذو الجلال دی، او رسول الله صلى الله عليه وسلم دی، څرنګه چې الله جل جلاله

د خپل رسول په وسيله حكم ورکړی دی؛ ښاي چې له همغه حكم سره موافق دې غنائم هم ووېشل شي، د دې حكم تفصيل به وروسته راشي.

كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ۝٥ يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلۡحَقِّ بَعۡدَمَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى ٱلۡمَوۡتِ وَهُمۡ يَنظُرُونَ ۝٦

(دا د قسمت كراهيت دوی ته داسې وو) لكه چې ايستلی وې ته رب ستا له كوره خپله په حقه سره، حال دا چې بېشكه يوه (ډله) له مؤمنانو خامخا ناخوښه وو (له دې ايستلو چې ورته تيار نه وو). حال دا چې جګړه كوله دوی له تا سره په حقه خبره كې (چې جهاد وو) وروسته له هغه چې ښكاره شوه (دوی ته فتح ستا په بشارت، داسې جګړه يې كوله په كولو د جهاد كې) ګواكې بيولي كيږي دوی طرف د مرګ ته په داسې حال كې چې دوی وينې (عيناً مرګ په سترګو).

تفسير: يعنې فكر وكړئ ! چې په همدغه د «بدر» په جنګ كې له شروع څخه تر آخره پورې په څه ډول سره د الله تعالى امداد، تاييد، او توفيق د مسلمانانو په برخه وو، هم دغه پاك الله وو؛ چې د نصرت صادقه وعده يې د اسلامي دين په نسبت وفرمايله، او خپل نبي صلى الله عليه وسلم يې د يوه حق امر يعنې له كفارو سره د (جهاد) كولو لپاره له مدېنې منورې څخه د باندې د بدر په ډګر كې په داسې وخت كې راوويست، چې د مسلمانانو يوه ډله د قريشو له لښكرو سره پر جنګېدلو راضي او خوښه نه وه.

يعنې د جهاد په وسيله د اسلام او د اسلام د تابعانو غالب كېدل او د ابو جهل له لښكرو سره مقابله پر دوی باندې دومره شاقّه او ګرانه وه؛ لكه چې چا ته په رڼو سترګو د مرګي په خوله كې ورتلل سخت او مشكل ښكاري، بيا هم الله تعالى په خپل توفيق سره د وی د جنګ ډګر ته بوتلل، او په خپل امداد سره يې مظفر او منصور وګرځول، او له غنيمت سره يې سالم بېرته راوستل.

نو څرنګه چې د الله تعالى په مرستې (مدد) سره دغه لوی مهم له اوله تر آخره پورې پای (آخر) ته رسېدلی دی؛ نو د غنيمت اموال هم ښايي چې د هغه مال وګڼل شي، او د هغه هر هغه مصرف چې پاك الله د خپل رسول په وسيله در ښيي، ښايي چې هملته دې تقسيم او صرف كړ شي. !

تنبيه: د ﴿كَمَآ أَخۡرَجَكَ﴾ كاف مې په خپل تقرير كې يواځې د تشبيه لپاره نه دی اخيستی، بلكه د ابو حيّان «رحمه الله» له تحقيق سره موافق د تعليل په معنى باندې مې مشتمل كړی دی، لكه چې په ﴿وَٱذۡكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمۡ﴾ كې علماوو تصريح كړې وه، او د ﴿كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ﴾ الى آخر الآيات مضمون مې د ﴿قُلِ ٱلۡأَنفَالُ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ﴾ يو سبب ګرځولی دی، او د ابو حيان «رحمه الله» او د نورو په شان مې «أعزك الله» او نور مې مقدر نه دی منلی.

او هم مې د آيت په تقرير كې د «روح المعاني» د صاحب «رحمه الله» له تصريح سره سمه اشاره كړېده، چې د ﴿كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ﴾ د دوی يواځې خروج عن البيت مراد نه دی، بلكه له «خروج من البيت» ځنې تړې (دخول في الجهاد) پورې اوږده او پراخه زمانه مطلوبه ده، چې په كې ﴿وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ۝٥ يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلۡحَقِّ﴾ او نور ګرد احوال او وقائع سره شامل او واقع شوي دي.

د يوې ډلې كراهيت خو عين د خروج عن المدينه په وخت كې لا ښكاره شوی وو، لكه چې د صحيح مسلم شريف او د طبري شريف په حواله د «الأنفال» د سورت په اوله مقدمه كې بيان شوي دي، د مجادلې صورت به غالباً وروسته له هغه د كفارو د لښكرو د خوځېدلو د اطلاع رسېدلو په وخت كې د «صفراء» په مقام كې واقع شوی وي، له دې پوهېدلو څخه به د ځينو مبطلينو د مغالطو استيصال په ښه ډول سره وشي.

وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللَّهُ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُونُ لَكُمْ
وَيُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكَافِرِينَ ﴿٧﴾ لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ ﴿٨﴾

او (یاد کړئ) هغه وخت چې وعده کوله له تاسې سره الله یو د دوو طائفو (ډلو څخه چې قافله یا لښکر وو) چې بېشکه دغه تاسې لره ده، او ستاسې خوښه وه چې بېشکه هغه بې وسلې بې زحمته (بې اغزي ډله دې) وي تاسې ته، او اراده لري الله د دې چې ښکاره ثابت کړي رښتیا په خبرو خپلو سره، او پرې کړي بېخ د کافرانو لپاره د دې چې ظاهر غالب کړي حق (دین د اسلام)، او (لپاره د دې چې) ظاهر کړي بطلان د باطل (کفر)، او اګر که بده مني (دا خبره) مجرمان (کافران او پرې خپه کیږي).

تفسیر: مسلمانانو غوښتل چې پر تجارتي قافلې باندې دې حمله وشي، چې یو اغزی هم د دوی په پښو کې چوخ نشي، او ډېر مال او اسباب هم په لاسونو ورشي، لیکن د الله تعالی رضا داسې وه، چې په دغه وړوکي کم قوته او بې سامانه ټولي ته پر یوه کثیر التعداده اومرتب او منظم او له شوکته ډک لښکر باندې فتح او بری ورعطا کړي، او خپلې ګردې کلمې او خبرې په دغې وسیلې سره په یوه حیرانوونکي ډول رښتیا او ثابتې کړي، او د مکې معظمې د کفارو بېخ له ستې وکاږي، چې په دې ډول سره د الله تعالی د وعدې صداقت په یوه حیرت زیاتوونکي اصول سره ظاهر شي، او د صدق صداقت او د کذب کذابیت د کفارو علی الرغم په صاف صاف ډول سره ښکاره شي، لکه چې همداسې هم وشو، او په بدر کې د قریشو اویا تنه لوی لوی سرداران ووژل شول، او اویا تنه نور مشران یې بندیان شول، او په دې ډول سره د کفارو ملاوې ماتې شوې، او د مکې معظمې د کفارو بنیادونه سره ولړزېدل، فلله الحمد والمنة !.

إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ ﴿٩﴾ وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ
إِلَّا بُشْرَىٰ وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِ قُلُوبُكُمْ ۚ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾

(یاد کړئ) هغه وخت چې استغاثه به کوله تاسې رب خپل ته نو الله ستاسو استغاثه قبوله کړه لپاره د (فریاد) ستاسې، چې بېشکه زه مرسته (مدد) کوونکی یم له تاسې سره په زرو تنو له پرښتو څنې یوه په بلې پسې راتلونکې. او نه وه ګرځولې (نه وه ورکړې) دغه (مرسته) الله مګر (ورکړې یې وه فقط) لپاره د دې چې زېری شي (د نصرت) او لپاره د دې چې مطمئن (آرام) شي په دغې مرستې سره زړونه ستاسې، او نه ده مرسته مګر (خو ده) له جانبه د الله، بېشکه الله ښه غالب قوي دی (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

تفسیر: دا قسم یو بل آیت په (۴ جزء د آل عمران سورت په (۱۲۶) آیت (۱۳) رکوع) کې هم تېر شوی دی، دلته دې هم همغه تفسیر بیا وکتلی شي !، هو ! دومره ده چې هلته د پرښتو تعداد له (۳۰۰۰) څخه تر (۵۰۰۰) پورې بیان کړی شوی وو، که د دغو دواړو آیتونو واقعه یوه وي؛ نو ویلی کیږي چې: اول ځلې به یو زر کسیزه ډله راغلې وي، بیا به وروسته له هغې بله ډله راغلې وي چې د هغې تعداد به له درو زرو څخه تر پنځو زرو پورې رسېدلی وي، ښایي د ﴿مُرْدِفِينَ﴾ څخه همدې لوري ته اشاره وي.

إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لِيُطَهِّرَكُمْ بِهِ وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ
رِجْزَ الشَّيْطَانِ وَلِيَرْبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْأَقْدَامَ ﴿١١﴾

یاد کړئ هغه وخت چې واچوله (الله) په تاسې پر کالي (د خوب پرمنبکی) لپاره د امن (تسکین) ستاسې له خپله جانبه، او نازلې کړې (الله) پر تاسې له (طرفه د) آسمانه اوبه لپاره د دې چې پاک

کړي تاسې په دغو (اوبو) سره، او لرې کړي له تاسې نجاست د شیطان او لپاره د دې چې قوت واچوي په زړونو ستاسې کې، او محکم کړي په هغو (اوبو) سره قدمونه ستاسې.

تفسیر: د «بدر» غزا في الحقیقت د مسلمانانو لپاره ډېره سخته ازموینه او د عظیم الشأن امتحان موقع وه، د مسلمانانو او د کافرانو په منځ کې دغه ړومبنی مهم او قابل الذکر تصادم وو، او بیا یې صورت هم داسې واقع شوی وو، چې کفارو لا له پخوا څخه پر ښو ښو ځایونو او د اوبو او نورو حاکمه وو نقاطو باندې قبضه کړې وه، او مسلمانانو په یوه ټیټ ځای کې موقع نیولې وه، چې په کې ډېرې داسې شګې وې چې تګ او راتګ په کې سخت مشکل او د تلونکي پښې به په کې ډېرې خښېدې، د ګرد او غبار او دوړو لامله هم سخت تکلیف او ربړ ورسېده، د اوبو د نشتوالي له سببه له یوه جانبه د اوداسه او غسل تکلیف او له بله طرفه له تندې ځنې مسلمانان ډېر زیات وارخطا شوي وو.

په دغه وخت کې الله تعالی په خپل کامل رحمت سره یو زوروړ باران اوراوه، چې په هغه سره هغه ګردې شګې کلکې شوې، او د غسل او اوداسه لپاره اوبه ډېر شوې، او له ګرد او غبار او دوړو څخه هم وژغورل شول.

بالعکس په هغه ځای کې چې د کفارو لښکر وو، داسې سختې چبکړې او ختې پیدا شوې، چې دوی به درګرده په کې ښوییدل او خښېدل، کله چې دغه ظاهري پریشانۍ ګردې لرې شوې، نو الله تعالی پر مسلمانانو باندې یو قسم پرمښکې او د خوب پرکالي او بې سدۍ په شان یوه وضعه راوسټله، کله چې له هغې د دوی سترګې خلاصې شوې، نو د دوی له زړونو ځنې خوف، هراس او وېره بېخي ورکه شوه.

په ځینو روایاتو کې راغلي دي، چې رسول الله مبارک او أبو بکر الصدیق رضي الله تعالی عنه ټوله شپه په عریش کې په زارۍ او دعا مشغول وو، په پای (آخر) کې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم لږه پرکالي راغله، کله چې له هغې څخه یې سترګې خلاصې شوې، نو ویې فرمایل: خوشاله اوسئ ! چې جبرئیل ستاسې د مرستې (مدد) لپاره راځي !، کله چې له «عریش» څخه یې د باندې تشریف راوړ؛ نو د ﴿سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ﴾ بشارت د دوی پر مبارکه ژبه جاري وو.

په هر حال هغه د رحمت باران بدنونه یې له بې اودسیو او زړونه یې له شیطاني وسوسو ځنې پاک کړل، له بل لوري د شګو له کلکېدلو څخه په ظاهري ډول سره هم د دوی قدمونه ټینګ او ثابت شول، او د دوی له زړونو څخه خوف او وېره بېخي ووته، او بېخي ډاډه او مطمئن او زړور شول.

إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى الْمَلَائِكَةِ أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا ۚ سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ﴿١٢﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ وَمَن يُشَاقِقِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿١٣﴾ ذَٰلِكُمْ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابَ النَّارِ ﴿١٤﴾

(یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چې وحي وکړه رب ستا پرښتو ته (چې ووایئ مؤمنانو ته) بېشکه زه له تاسې سره یم (په نصرت او اعانت) نو ثابت کړئ تاسې هغه کسان چې مؤمنان دي (په نصرت او بشارت)، ژر به وغورځوم زه په زړونو د هغو کسانو کې چې کافران شوي دي وېره، نو ووهئ تاسې (سرونه د دې کفارو) له پاسه د ورمېږونو، او ووهئ تاسې له دغو (کفارو څخه هر هر بند) او ټولې ګوتې. دغه (وهل د کفارو) د دې لپاره دي، چې بېشکه دوی مخالفت کړی دی له الله او له رسول د دغه (الله) پر پرېښودلو (د شرعي)، او هر هغه څوک چې مخالفت کوي له الله او له رسول د الله؛ نو بېشکه الله سخت دی عذاب (د ده مخالفانو ته په دنیا او عُقبی کې). دغه

(ستاسې دنيوي عقوبت دی) نو وځکئ تاسې دا (دنيوي عذاب ای کفارو !) او (وپوهېږئ چې) بېشکه مقرر دی کافرانو ته عذاب د اور (د دوزخ په آخرت کې).

تفسير: د «بدر» غزا د اهميت اندازه له دې نه ښه لګېدی شي، چې پخپله لعين ابليس د «کنانه» د لوی سردار «سراقة بن مالك مدلجي» په صورت ممثل شوی ابو جهل ته راغی، او د مشرکانو زړونه يې ډېر مطمئن او ښه ډاډه کړل، او هغوی ته يې اطمينان ورکړ چې نن پر تاسې باندې هيڅوک بری او غلبه نشي موندلی، او زما ګرده قبيله له تاسې سره ده، د ابليس تر بيرغ لاندې د شيطانانو ډېر لوی لښکر وو، چې د دې واقعې تفصيل وروسته راځي.

د دوی په مقابل کې الله تعالی د مسلمانانو د (مرستې) او امداد لپاره د خپل فوځ قطعات د جبرئيل او ميکائيل عليه السلام تر مشری لاندې ولېږل، او ويې فرمايل چې: زه له تاسې سره يم، که شياطين د انسانانو په صورت سره متشکل شوي دي، او په دغه وسيله سره د کفارو حوصلې زياتوي، او د دوی له لوري جنګېدلو ته تيار دي، او د مسلمانانو په زړونو کې وسوسې وراچوي، او دوی وېروي؛ نو تاسې ای پرښتو ! د مظلومو او ضعيفو مسلمانانو زړونه مضبوط او ټينګ کړئ ! له دې لوري تاسې د دوی همت ورزياتوئ ! د هغه لوري به زه د کفارو په زړونو کې دهشت، رعب، خوف او وېره اچوم، تاسې د مسلمانانو په مرسته د دغه ظالمانو ورمېرونه (مړی) ووهئ ! (يعنې پرې يې کړئ)، او بند په بند او پيوند په پيوند يې جلا (جدا) او انډی انډی (ټوټې ټوټې) يې کړئ !.

په روايتونو کې مذکور دي، چې په «بدر» کې خلقو پرښتې په خپلو سترګو سره ليدلي، او هغه کفار چې د پرښتو له لاسه وژلي شوي وو؛ د هغو کفارو ځنې چې مسلمانانو وژلي وو؛ جلا (جدا) او له ورا پېژندل کېدل.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ ٱلْأَدْبَارَ ﴿١٥﴾

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) کله چې يو ځای شئ تاسې (يا مخامخ شئ يا پېښ شئ په جنګ کې) هغو کسانو سره چې کافران شوي دي (د جنګ په ډګر کې)، په دغه حال کې چې دوی غونډ (او ګڼ) وي؛ نو مه ګرځوئ تاسې دغو (کفارو) ته شاوې خپلې (د تېښتې په نيت).

تفسير: «فرار من الزحف» يعنې له جهاده ځنې وتل او تېښتېدل، او په جنګ کې کفارو ته خپله شا اړول ډېره لويه ګناه او له أكبر الكبائرو ځنې ده، که د کفارو تعداد د مسلمانانو له شمېره يو په دوه وي؛ بيا هم فقهاوو مسلمانانو ته د شا آړولو اجازه نه ده ورکړې.

وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُۥٓ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٍ فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأْوَىٰهُ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٦﴾

او هر هغه څوک چې وګرځوي دغو (کفارو) ته په دغه ورځ (د مخامخ کېدلو د جنګ) شاخپله، مګر په دې حال کې چې بېرته ګرځېدونکی (په هنر سره) لپاره د جنګ يا حال دا چې يو ځای کېدونکی وي په طرف د بلې طائفې (د مجاهدينو)؛ نو په تحقيق رجوع يې وکړه او اخته شو په غضب (قهر) له (جانبه د) الله، او ځای د اوسېدلو د ده دوزخ دی، او بد ځای د ورتلو دی (دا دوزخ).

تفسير: يعنې تېښته او په شا کېدل که د کوم جنګي مصلحت لپاره وي، مثلا له بېرته تللو څخه وروسته بيا حمله ورووړل ډېر مؤثر وي، يا جولان کوونکی وي لپاره د تودولو د جنګ يا لپاره د غيل (دوکه) ورکولو د دښمن چې په تېښته يې تېر باسي، او بيا پرې يرغل (حمله) ووړي، يا که د غازيانو يو ډله له خپل مرکزي فوځ څخه بې له لښکري مصلحتونو

بېله شوي وي، او دوی د خپل ځان د ساتنې لامله تېښته کوي، او له خپلو نورو ملګرو سره ځان ګډوي، نو داسې تېښته جرم نه دی، او ګناه فقط په هغه وخت کې ده؛ چې تېښته یوائې له وېرې او د ځان د ژغورنې (محفوظ کولو) او د حقیقي تېښتې په نیت وي.

(وفرمایل الله: که تاسې فخر کوئ ای مسلمانانو په قتل او حبس د کفارو)،

فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ ۚ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ ۚ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً حَسَنًا ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٧﴾

نو نه دي وژلي تاسې دغه (کفار په خپل قوت سره په بدر کې) ولیکن الله وژلي دي دغه (کفار چې مرسته یې تاسې ته درکړې ده)، او نه دي ویشتل کړي تا (ای محمده ! دغه ویشتل چې د بشر له شان څخه نه وي) په هغه وخت کې چې (ظاهري) ویشتل کړي وو تا؛ ولیکن الله دغه و یشتل کړي وو، او (دا کار کړی وو الله) د دې لپاره چې وازمویي مؤمنان له نزده خپله په ازمویني (یا د دې لپاره چې احسان وفرمایي پر مؤمنانو له دربار خپل ښه احسان او انعام په اکرام د مرستې او ولجې) نېکې سره (چې د نصرت او غنیمت نعمت دوی ته ورکړي)، بېشکه الله ښه اورېدونکی (د ګردو اقوالو) ښه عالم دانا دی (په ټولو احوالو).

تفسیر: کله چې جنګ سخت شو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د کفارو د لښکرو په لوري یو موټی شګې وشیندلې (وغورځولې)، او دري ځلې یې «شاهت الوجوه ـ قبیح شول مخونه د دښمنانو !» وویل، د الله تعالی په قدرت د دغو شګو ذرې د هر یوه کافر په سترګو کې ولوېدلې، او ګرد د خپلو سترګو په مښلو باندې لګیا شول.

له بل لوري مسلمانانو سمدلاسه یرغل (حمله) وروړ، بالآخره ډېر کفار (لکه شین فصل) ورېبل او ووژل شول، په همدغه نسبت فرمایي چې: اګر که په ښکاره ډول سره شګې تا په خپل لاس سره وشېندلې، لیکن عادتاً هیڅ بشر داسې کار نشي کولی، چې د یوه موټي شګې ذرې د هر یوه کافر محارب سترګو ته ور ورسوي، او د یوه مسلح لښکر د تېښتې سبب وګرځي، دا یوائې د الله تعالی قدرت وو؛ چې یو موټی شګې یې د ګردو کافرو محاربینو په سترګو کې وغورځولې.

په تاسې بې وسلې او بې سامانه او لږو مسلمانانو کې دومره قوت او قدرت چېرې وو ! چې یوائې ستاسې په مټ او زور سره کفارو داسې ماتې وخوړه؟ !، دا خو د الله تعالی د قدرت اثر او اغېزه وه چې داسې متکبر او سرکښان یې د موت او فناء او ذلت او قید په کنده کې وغورځول.

هو ! دا خبره ښکاره ده، چې ظاهرا دغه کار ستا د لاسونو په وسیله شوی، او ستا په لاسونو کې داسې یو فوق العاده قوت او قدرت پیدا کړ شو؛ چې تا هغه په خپل کسب او اختیار سره حاصلولی نشو، دغه واړه د دې لامله (له وجې) وکړل شول؛ چې د الله تعالی قدرت ظاهر شي، او پر مسلمانانو باندې پوره مهرباني او په ښه ډول سره احسان وشي، بېشکه الله تعالی د مؤمنانو دعاء او فریاد اوري، او د دوی افعال او احوال په ښه ډول ورمعلوم دي، او دی هم ښه پوهېږي چې پر مقبولو بندګانو په کوم وخت او څه ډول (طریقه) احسان مناسب دی؟ .

ذَٰلِكُمْ وَأَنَّ اللَّهَ مُوهِنُ كَيْدِ الْكَافِرِينَ ﴿١٨﴾

دغه (تېر احسان وشو) او (دغه خبره حقه ده چې بېشکه الله) ضعیفوونکی د پلمې او تدبیر د کفارو دی.

تفسير: يعني په دغه وخت کې هم الله تعالى د مکې معظمې د کفارو پلمې (فريبونه) او تدبيرونه ويجاړ او له خاورو سره يې برابر او لتاړ کړل، او وروسته له دې نه هم د دوی ګرد تدبيرونه خراب او سستوي.

إِن تَسْتَفْتِحُوا فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ ۖ وَإِن تَنتَهُوا فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَإِن تَعُودُوا نَعُدْ ۚ وَلَن تُغْنِيَ عَنكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْئًا وَلَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٩﴾

که غواړئ تاسې فتح (فيصله د جانبينو څخه د ښه لار موندونکي په خوا ای کفارو !)؛ نو په تحقيق راغله تاسې ته فتح (فيصله د ښه لار موندونکي په خوا) او که تاسې منع راوړه (له کفره او د مؤمنانو له جنګه)؛ نو دغه (منع بهتره او) خير دی تاسې ته، او که بيا راوګرځېدئ تاسې (جنګ او کفر ته)؛ نو مونږ به هم راوګرځو (نصرت د مؤمنانو ته)، او له سره به دفع ونه کړي له تاسې ډله ستاسې هيڅ شی (له عذاب د الله نه)، او اګر که ډېره لويه هم وي دا (ډله ستاسې)، او (پوه شئ) چې بېشکه الله سره له مؤمنانو دی (په نصرت او ثواب ورکولو کې).

تفسير: دغه خطاب د مکې معظمې کفارو ته دی، دوی به له هجرت څخه پخوا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ويل: ﴿مَتَىٰ هَٰذَا الْفَتْحُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ﴾ «ځمونږ او ستاسې په منځ کې به دغه فيصله کله کيږي؟ که تاسې رښتيني يئ».

که څه هم د دغې خبرې پوره فيصله به د قيامت په ورځ کې کيږي، مګر يو ډول فيصله يې نن د «بدر» په ميدان کې هم تاسې وليده، چې په څه يو خارق العاده طريقې سره تاسې ته د کمزورو مسلمانانو له لاسونو سزا در ورسېده؟.

که اوس هم د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم له مخالفت او کفر او شرک څخه لاس واخلئ؛ نو بهتر دی او دنيوي او اخروي ګټې به ستاسې په برخه شي، او که بيا هم تاسې داسې وجنګېږئ؛ نو مونږ به بيا هم په همدې قسم د مسلمانانو سره مرسته کوو، او په پای کې به تاسې ذليل او خوارېږئ !.

کله چې د الله تعالى تأييد له مسلمانانو سره دی؛ نو ستاسې ډلې او لښکرې که هر څومره ډېر وي، ستاسې په کار به هيڅ درنشي.

په ځينو روايتونو کې راغلي دي، چې ابو جهل او نورو کفارو د مکې معظمې څخه د «بدر» په لوري د رهي کېدلو په وخت کې د کعبې شريفې پردې په خپلو لاسونو نيولې، داسې دعاوې يې کړې وې چې: «يا الله ! له دواړو فريقو څخه هر يوه چې أهدى، عليا، او أکرمه وي؛ فتحه او برى د همغې ډلې روزي کړې ! او فساد اچوونکي مغلوب کړې !» نو په ﴿فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ﴾ کې د هغه ځواب ورکړ شو.

يعني همغې ډلې ته چې واقعي عليا او افضله ده؛ فتحه او برى نصيب شو، او مفسدان رسوا او خوار او ذليل شول.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ ﴿٢٠﴾

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو !) حکم ومنئ تاسې د الله او (حکم ومنئ) د رسول د الله، او مخ مه ګرځوئ تاسې له دغه (اطاعت د رسول الله څخه) حال دا چې تاسې اورئ (قرآن).

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ قَالُوا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿٢١﴾

او مه کېږئ تاسې (ای مؤمنانو) په شان د هغو کسانو چې وايي واورېده مونږ، حال دا چې دوی نه اوري (په ګټورو اوربدلو سره).

تفسير: يعنې په ژبه وايي چې واموورېده (خبره ستا او ومو مانه حکم ستا !) حال دا چې هغه اورېدل او منل به څرنګه وي، چې انسان سمه خبره واوري او پرې ونه پوهيږي؟ يا خو پرې وپوهيږي خو قبوله يې نکړي، پخوا هم يهودانو موسى عليه السلام ته ويلي وو: ﴿سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا﴾ «وامو ورېده خبره ستا او ومو نه منله هغه خبره».

د مدينې منورې د منافقانو اصول داسې وو، چې د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم او د مسلمانانو په مخکې به يې تش په ژبه د اسلام اقرار کاوه، او په زړه به ترې منکران وو، په هر حال د صادق مؤمن شان دا دی، چې په زړه او په خوله او په عمل او په غياب او په حضور کې پر الهي او نبوي احکامو عمل وکړي، او تر اسلامي هدايتو ځان جار کړي.

إِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِندَ اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٢٢﴾

بېشکه بدتر د ټولو حيواناتو په نزد د الله (هغه دي چې) کانړه دي (د حق له اورېدلو څخه) او ګونګيان دي (د حق له ويلو څخه) هغه کسان دي چې عقل نه لري دوی.

تفسير: هغو کسانو ته چې الله تعالى د ويلو لپاره ژبه او د اورېدلو لپاره غوږونه او د پوهېدلو لپاره زړه او دماغ ورعطا کړي وو، بيا دوی دغه ګرد قوتونه معطل کړل، نه په ژبې سره د حق ويل او د حق موندلو لپاره موفق شول، او نه يې په غوږونو سره د حق غږ واورېده، او نه يې په زړه او دماغ سره د حق د پوهېدلو کوښښ وکړ، الغرض د الله تعالى ګردې ورکړى شوې قواوې يې چې په حقيقت کې د هغو لوړو مقاصدو لپاره ورکړى شوې وې؛ په خپل اصلي کار کې صرف نه کړې، بلا شبهه داسې خلق له حيواناتو ځنې هم بدتر دي.

وَلَوْ عَلِمَ اللَّهُ فِيهِمْ خَيْرًا لَّأَسْمَعَهُمْ وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوا وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾

او که معلوم وی الله ته په دوی کې څه خير؛ نو خامخا اورولي به يې وی دوی ته (په سماع قبول سره)، او که اورولي وی دوی ته (الله سره له دې چې ور معلوم دي دا چې په دوی کې هيڅ خير نشته)؛ نو هرومرو به ګرځيدلي وو دوی له حق نه حال دا چې دوی به څنګ کوونکي وو (له قبوله د حق عناداً او انکاراً).

تفسير: يعنې اصلي خبره دا ده چې په دغو خلقو کې د نېکۍ ريښه (ريشه) او اساس (جړه) له سره نشته، ځکه چې حقيقي نيکي هلته د انسان په برخه کيږي؛ چې د ده په زړه کې د حق د غوښتلو مينه او د هدايتو او د نورو حسناتو د قبلولو استعداد او لياقت وي، هغه قوم چې د حق غوښتلو هيڅ روح په کې نه وي، او د الله تعالى ورعطا شوي قوتونه په خپلو لاسونو خرابوي؛ نو ورو ورو په دوی کې د حق د قبول لياقت او استعداد نه پاتې کيږي.

نو ويې فرمايل چې الله تعالى د دوی په زړونو کې د خير او هدايت د قبلولو لياقت ونه ليد، که په دوی کې يې څه لياقت ليدی؛ نو له خپل عادت سره موافق به يې ضرور هغوی ته خپل آيتونه اورول، او دوی به يې پرې پوهول، باقي په دغه موجوده حالت کې که دوی ته آيتونه واوروې، او دوی پرې وپوهوې؛ نو دغه ضد او عناد کوونکي خلق سره له پوهېدلو هم د هغو قبلوونکي نه دي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ۖ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو ! غوږ ږدئ) حکم منئ تاسې (خاص) د الله او (حکم منئ خاص) د رسول (د الله) کله چې وبولي تاسې لپاره د هغه کار چې ژوندي

کوي تاسې (په دنيوي او اخروي ژوندون سره)، او پوه شئ تاسې چې بېشکه الله پرده کيږي په منځ د انسان او زړه د ده کې، او بېشکه شان دا دی چې خاص همده ته تاسې جمع کېږئ.

تفسير: يعنې الله تعالى او رسول صلى الله عليه وسلم د هغه عمل په لوري تاسې ته دعوت درکوي (مثلا جهاد او نور)؛ چې په هغه کې له اوله تر آخره ستاسې خير او ګټه (فائده) ده، نو د مؤمنانو شان دا دی، چې د الله تعالى او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دعوت په مقابل کې على الفور (لبّيک) ووايي ! او له زړه يې ومني !، هر و خت او هر ځای ته چې پاک الله دوی وبولي؛ ښايي دوی خپل ګرد کارونه او مشغولتياوې پرېږدي، او همغلته خپل ځانونه ورسوي.

﴿وَاعْلَمُوٓا﴾ الآية ـ «او پوه شئ تاسې چې بېشکه الله پرده کيږي په منځ د انسان او زړه د ده کې، او بېشکه شان دا دی چې خاص همدغه الله ته تاسې جمع کېږئ»، يعنې د الهي حکم په ځای کولو کې تعطيل او ځنډ (ډيل) مه کوئ ! ښايي چې لږ وروسته ستاسې زړونه همداسې پاتې نشي، ځکه چې انسان پر خپل زړه باندې واک او قبضه نه لري، بلکه زړه د الله تعالى په اختيار کې دی، په هر لوري يې چې اراده وفرمايي؛ اړوي يې، بېشکه الله تعالى ابتداء په خپل مرحمت هغه نه اړوي، او نه مهر پرې لګوي، هو ! کله چې بنده د اسلامي احکامو په امتثال او تعميل کې سستي او لتې وکړي؛ نو په سزا کې يې هغه اړوي، يا که حق غوښتل پرېږدي، او ضد او عناد غوره کړي؛ نو مهر پرې لګوي.

وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً ۖ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٢٥﴾

او ځان ساتئ تاسې له هغې فتنې (فساد ګناه) څخه چې نه رسيږي (عقوبت يې يواځې) همغو کسانو ته چې ظلم يې کړی وي (په کولو د ګناه سره) له تاسې ځنې خاص (او يواځې، بلکه عمومي به وي)، او پوه شئ چې بېشکه الله سخت دی عذاب (د ده مخالفانو ته په دنيا او عُقبا کې).

تفسير: يعنې (له داسې ګناه ځنې تاسې ځان ډېر ساتئ؛ چې کوونکي او نه کوونکي دواړه په کې لاهو کيږي، لکه د جهاد او بدعتونو او نفاق او شقاق د ظهور په وخت کې سستي)، فرض يې کړئ ! که د يوه قوم اکثرو افرادو د ظلم او د عصيان اصول اختيار کړه، او څه خلق له هغو څخه جلا (جدا) پاتې شول، او غوړه مالي يې غوره کړه، نه يې نصيحت وکړ، او نه يې ترې د نفرت اظهار.

نو دغه فتنه ده، چې د دې په ضمن کې هغه ظالمان او دغه پتې خولې خوشامندګران به ګرد سره راځي، نو کله چې عذاب راشي؛ ګرد به على حسب المراتب په هغه کې شامل وي، او هيڅوک به ترې نه وي خلاص.

له دې تفسير سره موافق د دغه آيت مقصود به داسې وي چې: د الله جل جلاله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حکم د منلو لپاره هم پخپله تاسې تيار اوسئ ! او هم سرکښانو ته نصيحت کوئ او پوهوئ يې ! که دوی ستاسې نصيحت ونه مني؛ نو د هغوی ځنې د خپلې بېزای اظهار وکړئ.

وَاذْكُرُوا إِذْ أَنتُمْ قَلِيلٌ مُّسْتَضْعَفُونَ فِي الْأَرْضِ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَآوَاكُمْ وَأَيَّدَكُم بِنَصْرِهِ وَرَزَقَكُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٢٦﴾

او ياد کړئ تاسې هغه وخت چې تاسې لږ ضعيفان (مغلوبان) کړی شوي وئ په ځمکه کې، ويرېدئ تاسې له دې نه چې وبه تښتوي په جلتي سره تاسې خلق (يعنې مغلوب به کړي تاسې قريش يا پارس يا روم)؛ نو ځای درکړ (الله) تاسې ته، اوقوت يې درکړ تاسې ته په کومک (مدد) خپل سره، او روزي يې درکړه تاسې ته له طيّباتو (پاکو شيانو لکه غنائم) لپاره د دې چې تاسې شکر وباسئ !.

تفسير: يعني د قلّت او ضعف له ګمانه د الله تعالى په حكم (جهاد) كې سستي مه ښكاروئ، وګورئ له هجرته پخوا بلكه له هغه وروسته هم ستاسې شمېر لږ وو، وسله او سامان هم تاسې نه درلود (لرلو)، كله چې خلقو ستاسې كمزوري لېدله؛ نو طمع يې كوله چې تاسې وخوري، او هضم مو كړي، او تاسې ته هر وخت هم دغه اندېښنه درپېښه وه، نه چې د اسلام له دښمنانو سره ځمونږ جنګ او جګړه ونښلي او مونږ د هغوى په لاس كې ولويږو، او هغوى مو د مرغانو په شان په خپلو منګولو او منښو كې سره چېرې وتښتوي، مګر الله تعالى تاسې ته په مدينه منوره كې هستوګنه وركړه، او د انصارو او مهاجرينو په منځ كې مو د ورورګلوى بې ساري سلسله قائمه كړه، بيا يې د «بدر» په غزا كې تاسې ته ځرنګه غيبي مرسته درورسوله، چې د كفارو بېخ مو وويست، تاسې ته يې اى مسلمانانو شانداره برى او فتح وركړه !.

د غنيمت مال او د بنديانو فديه يې هم وركړه، الغرض حلال، طيب، پاك شيان او د نعمتونو انواع او اقسام يې درعطا كړل، چې تاسې د الله تعالى شكرګزار بندګان شئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَخُونُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ وَتَخُونُوٓاْ أَمَٰنَٰتِكُمۡ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٢٧

اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى (يعني اى مؤمنانو !) مه كوئ خيانت له الله سره او (مه كوئ خيانت د الله) له رسول سره، او (مه) كوئ خيانت تاسې په امانتونو خپلو كې حال دا چې تاسې پوهېږئ (چې د امانت ساتل واجب دي).

تفسير: د الله تعالى او رسول الله صلى الله عليه وسلم سره خيانت دا دى: چې د هغو د احكامو مخالفت وكړ شي، په ژبې سره خپل ځانونه مسلمان بولي او د كفارو عمل وكړي، يا هر هغه كار باندې چې د الله جل جلاله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له خوا مأمور شوى وي، په هغه كې ټكي بركي وكړي، يا د پاك رسول اسرار نورو ته ښكاره كړي، يا د غنيمت له مال څخه غلا وكړي، يا د دغو په شان نور ناروا كارونه وكړي، په هر حال په هغو ګردو امانتونو كې چې د الله جل جلاله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم يا د بندګانو له خوا تاسې ته سپارلى شوي وي؛ له خيانت څخه ځان وژغورئ (بچ كړئ)، په دغو كې هر قسم حقوق الله او حقوق العباد راغلل.

وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞ وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ٢٨

او پوه شئ تاسې چې بېشكه مالونه ستاسې او اولاد ستاسې ابتلاء (ازمويته) ده، او بېشكه الله په نزد د ده اجر (ثواب) ډېر لوى دى، (بهتر له هر شي نه نو په طلب كې يې اوسئ).

تفسير: يعني ستاسې اموال او اولاد فتنه ده، چې مو منع كوي له كارونو د آخرت څخه، او سبب دى د واقع كېدو ستاسې په ګناه او په عذاب كې، يا سبب دى د محنت چې تاسې الله تعالى پرې ازمويي؛ نو د دوى له د ډېره محبت له كبله خيانت مه كوئ، انسانان على الأكثر د مال او اولاد لامله له نورو بندګانو څخه غلا كوي، نو ځكه يې تنبيه وفرمايله ؛چې د امانتدارى هغه قدر او قيمت او لوړوالى چې د الله تعالى په دربار كې شته؛ هغه په دنيوي مال او اولاد او نورو شيانو كې له سره نشته.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَتَّقُواْ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّكُمۡ فُرۡقَانٗا وَيُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٢٩

اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى (يعني اى مؤمنانو !) كه وويرېږئ تاسې له الله (او پرهېزګاري اختيار كړئ له ګناهونو څخه) وبه كړي ستاسې لپاره فيصله (د مؤمنانو په عزت او د

کافرانو په ذلت)، او لري به کړي له تاسې ګناهونه ستاسې، او مغفرت به وکړي تاسې ته، او الله څښتن (خاوند) د فضل (رحمت، احسان) ډېر لوی دی.

تفسیر: یعنې که له الله تعالی ځنې وویرېږئ او د تقوی لار غوره کړئ؛ نو الله تعالی به ستاسې او ستاسې د مخالفانو په منځ کې فیصله وکړي، او ستاسې کور کهول به همداسې د کفارو په لاسونو کې ګرفتار نه پاتې کیږي، او در به کړي تاسې ته «فرقان» یعنې هدایت چې په هغه سره به حق له باطله بېلوئ، یا د دارینو نجات، یا نصرت پر دښمنانو، یا خلاصی له شبهاتو ، یا ظهور او شهرت په تمام عالم کې.

وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ ۚ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ ۖ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ﴿٣٠﴾

او (یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چې مکر فریب به کاوه ستا په خلاف هغو کسانو چې کافران شوي وو، لپاره د دې چې بندي کړي یا ووژني تا یا وباسي تا (له مکې نه)، او پټ چال او فریب جوړوي (دوی تاته) او (د دوی د فریب او چال په مقابل کې د دوی سره) چال کوي الله (تعالی)، او الله (تعالی) له ټولو چال کوونکو څخه ښه او بهتر چال کوونکی دی.

تفسیر: پخوا له هجرته د مکې معظمې کفار په «دار الندوه» کې سره ټول شول، او مشوره یې سره وکړه، چې د محمد صلی الله علیه وسلم په نسبت څه وکړی شي، ځینو به ویل چې: «بندي کړی شي، او ښه دې ژوبل هم کړی شي !»، د ځینو رایه داسې وه چې: «له وطنه دې وشړل شي ! چې د تل لپاره د ده له اندېښنې څخه نجات و مومو»، په پای (آخر) کې د ابو جهل له رایې سره موافقه داسې فیصله وشوه چې: «د عربو د ګردو (ټولو) قبائلو څخه دې یو یو زړور ځلمی انتخاب او غوره شي ! او دغه قوي او پیاوړي (بهادر) ځلمیان دې سره ټول لاس یو کړي ! او یو ځلې دې په خپلو تورو سره پر محمد صلی الله علیه وسلم باندې ګزار وکړي ! څو بني هاشم له ګرد عربو سره جنګ ونه کړی شي، او پر عربو باندې د محمد صلی الله علیه وسلم دیت واوړي، او پر ګردو قبیلو باندې وویشل شي».

پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته پرښتو اطلاع ورکړه چې «پخپله بستره باندې علي کرّم الله وجهه ویده کړئ، او د دغې ټولنې په سترګو کې چې ستاسې د قتل لپاره سره ټول شوي دي؛ خاوري واچوئ، او د باندې د هجرت په قصد ووځئ !».

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا قَالُوا قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَاءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هَٰذَا ۙ إِنْ هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٣١﴾

او کله چې ولوستلی شي پر دوی باندې آیتونه ځمونږ؛ نو وایي دوی په تحقیق واورېده مونږ (دغه کلام)، که وغواړو مونږ؛ نو خامخا وبه وایو مونږ هم په مثل د ده، نه دی دغه (کلام) مګر خو دی د دروغو لیکل (او باطل احوال) د پخوانیو.

تفسیر: نضر بن الحارث به ویل: که مونږ وغواړو نو د قرآن په شان کلام جوړولی شو، په دغه قرآن کې خو پرته له چتې (بېکاره) قصو او له کاره وتلو افسانو څخه بل شی نشته، مګر پاک قرآن هم د ګردو (ټولو) جګړو فیصله پر همدغې خبرې کړېده، چې ده بیا ولې دغه خپله ادعا پای (آخر) ته ونه رسوله؟

وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٢﴾

او (یاد کړه) هغه وخت چې وویل دغو (کفارو) یا الله ! که چېرې وي دغه (قرآن یا دین) هم دغه حق (لکه چې محمد یې وایي نازل شوی) له نزده ستا؛ نو راووروه پر مونږ باندې کانې له آسمانه، یا راوړه (راولېږه) (بل کوم قسم) عذاب دردناک.

تفسیر: په دغه آیت کې د مکې معظمې د مشرکانو د انتهایي جهل او شقاوت او عناد او بغاوت اظهار دی، یعنې دوی به ویل چې: یا الله ! که په واقع کې هم دغه محمدي دین چې مونږ په دغومره اوږده موده کې په ډېر شد او مد سره د هغه په تکذیب کې لګیا یو، حق وي؛ نو ولې د عذاب په نزول کې دومره ځنډ (تأخیر) کیږي؟ او ولې د تېرو اقوامو په شان پر مونږ باندې د کانړو باران نه وریږي؟ یا د هغوی په شان په بل کوم عذاب مونږ ولې نه اخته کیږو؟ یا ځمونږ بیخي استیصال او بېخ کنې ولې نه کیږي؟ ولې مو بېخ او بکر له سټه نه باسي؟.

وایي چې: دغه دعاء ابو جهل دمکې معظمې څخه د وتلو په وخت کې کعبې شریفې ته مخامخ کړې وه، بالآخر هغه شی یې چې غوښتنی وو؛ د هغه یوه نمونه یې په بدر کې ولیده، او دی پخپله سره له (۶۹) نورو مشرانو د کمزورو او بې وسلې او بې سامانه مسلمانانو له لاسه ووژلی شو، او اویا تنه نور مشران هم د اسارت او بندي توب په ذلت کې ګرفتار شول.

وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ ۚ

او نه دی الله چې په عذاب کاندي دوی حال دا چې ته (ای رسوله) په دوی کې یې.

تفسیر: «سنت الله» همدا دی، چې هر کله پر کوم قوم د انبیاوو علیهم السلام د تکذیب لامله عذاب نازلوي، خپل رسول د دوی له منځه باسي، کله چې الله تعالی محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له مکې معظمې څخه بېل کړ، نو وروسته له هغه د مکې معظمې مشرکان د «بدر» په عذاب کې مبتلا شول.

وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿٣٣﴾

او (بل دا چې) نه دی الله عذابوونکی حال دا چې دوی مغفرت غواړي.

تفسیر: یعنې په دوی کې مستغفران دي، هغه ضعفاء د مؤمنانو چې په دوی کې پاتې شوي دي، یا دوی پخپله استغفار وایي، نو ځکه عذاب پرې نه راځي، ولې چې دوه شیان د عذاب د نزول مانع دي:

(۱): د یو قوم په منځ کې د رسول موجودیت.

(۲): استغفار، یعنې په مکه معظمه کې د محمد صلی الله علیه وسلم له برکته عذاب نه نازلېده، اوس پر هغوی باندې عذاب راغی، همداسې تر هغه پورې چې ګنهګار نادم وي، او توبه باسي؛ نو نه نیول کیږي، اګر که ډېر لوی ګنهګار هم وي.

رسول الله مبارک فرمایلي دي، چې د ګناهګارانو پناه دوه شیان دي:

(۱) ځما وجود. (۲): استغفار، کذا في الموضح.

وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَمَا كَانُوا أَوْلِيَاءَهُ ۚ إِنْ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَّا الْمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾

او څه دي دوی ته چې نه به په عذابوي دوی الله (پس له وتلو ستا او مؤمنانو له دوی نه) حال دا چې دوی منع کوي (خلق) له (دخول د) مسجد حرام څخه، او نه دي دوی واکداران د دغه (مسجد حرام)، نه دي واکداران د ده مګر (دي) متقیان، او لیکن اکثر د دوی نه پوهیږي (په دې چې دوی لره واکداري نشته).

تفسیر: یعنې د عذاب نه راتلل بنا پر هغو دوو سببونو دي، چې مخکې مذکور شول، که نه ستاسې شرارتونه او ظلم او شقاوت داسې شیان دي، چې د هغو په مقابل کې ښایي فوراً عذاب راشي، له دې نه به زیات ظلم څه وي؟ چې موحدین حرم شریف ته له راتګ او د الله جل جلاله له عبادت څخه په راز راز (قسم قسم) پلمو (تدبیرونو) او حیلو منع کوي، او دوی هلته نه پرېږدي چې لاړ شي؟.

د دوی ظلم او تېری دا دی چې د دې ظلم د جواز لپاره دغه سند وړاندې کوي؛ چې مونږ د حرم شریف متولیان او واکداران یو، هر چا ته چې زړه مو وغواړي د راتلو اجازه ورکوو، یا یې نه پرېږدو چې راشي، حال دا چې د حرم شریف متولیان یواځې متقیان او پرهېزګاران کېدی شي، مشرک او بد عمل سړی له سره د هغه حقدار نشي کېدی.

لیکن له دوی څخه ځینې کسان علی الأکثر له خپله جهالته داسې وایي چې مونږ د ابراهیم علیه السلام اولاده یو، او له فلانۍ قبیلې څخه یو، او د کعبې شریفې «تولیت» ځمونږ موروثي حق دی، چې د هغه لپاره کوم خاص قید او شرط نه دی پکار، نو دا یې راوښوول چې په اولاده د ابراهیم علیه السلام کې دغه حق د هغه کېدی شي چې متقي وي، او د داسې بې انصافانو حق نشي کېدی، چې له هر چا څخه چې دوی خپه وي؛ نو هغه ته د کعبې شریفې د راتللو اجازه نه ورکوي.

وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً ۚ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٥﴾

او نه وو لمونځ (عبادت) د دغو (کفارو) په نزد د کعبې مګر شپیلي وهل او لاسونه ټکول، (الله فرمایي): نو وڅکئ تاسې عذاب په سبب د هغه چې وئ تاسې چې کفر به مو غوره کاوه.

تفسیر: یعنې حقیقي لمونځ کوونکي له مسجده منع کوي، نو پخپله د دوی لمونځ به څه ارزښت (قیمت) ولري؟ د کعبې شریفې بربنډ طواف کول، د ذکر الله په ځای شپیلي وهل، او لاسونه ټکول، لکه چې نن هم ډېر اقوام ناقوس وهل او زنګونه شرنګول لوی عبادت ګڼي.

الغرض: نه دوی په خپله عبادت کوي، نه نور خلق پرېږدي چې عبادت وکړي، او دغه بې معنی او چټي (بېکاره) خبرې عبادت ګڼي، ځینې وایي چې: دغه شپیلي وهل، او لاسونه ټکول د دې لپاره وو، چې د مسلمانانو په عبادت کې خلل واچوي، او د تمسخر او استهزاء (ټوکې ټکالې) له لارې به یې داسې کول، والله أعلم.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ۚ

بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي نفقه کوي (لګوي) دوی مالونه خپل لپاره د دې چې منع کړي دوی (خلق) له لارې د الله څخه.

تفسیر: د «بدر» په غزا کې د کفارو له مشرانو ځنې دولسو سردارانو دا په غاړه اخیستې وه، چې هر یو تن به په یوه ورځ کې ګردو لښکرو ته ډوډۍ پخوي، لکه چې لس اوښان به هره ورځ د یوه له لوري حلالېدل، او پر لښکرو به خوړل

کښدل، بيا چې دوی ماتې ومونډله ؛نو د دغه مات شوي لښکر مجمع کله چې مکې معظمې ته ورسېده، ابو سفيان او د کفارو نورو مشرانو ته يې وويل: هغه مال چې تجارتي قافلې له شامه راوړی دی، هغه دې ګرد د اسلام په خلاف او له محمد څخه د انتقام اخيستلو په لاره کې ولګول شي !، لکه چې پر دغه خبره سره راضي شول، نو د داسې مال لګولو ذکر په دغه آيت کې راغلی دی.

فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ ۗ وَالَّذِينَ كَفَرُوٓا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ﴿٣٦﴾

نو ژر به نور هم ولګوي دغه مالونه، بيا به شي (دغه انفاق) پر دوی حسرت (پښيماني چې مال يې ځي او مطلب يې پرې نه حاصليږي)، بيا به په آخر کې مغلوب شي، او هغه کسان چې کافران شوي دي (او په کفر کې مړه شي)؛ دوزخ ته شړلي (بيولي) کيږي.

تفسير: يعنې کله چې په دنيا کې مغلوب او مقهور، او په آخرت کې معذب شي، نو د افسوس او حسرت لامله به خپلې ګوتې چيچي، چې مال مو هم له لاسه ووت، او بری مو هم په برخه نشو، لکه چې رومبی به «بدر» کې او بيا په احد او نورو غزاګانو کې د کفارو ګرد (ټول) مالي او جسماني قوتونه صرف شول، او هيڅ يوه ګټه (فائده) يې په لاس ورنغله.

لِيَمِيزَ اللَّهُ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ الْخَبِيثَ بَعْضَهُ عَلَىٰ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُ جَمِيعًا فَيَجْعَلَهُ فِي جَهَنَّمَ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٣٧﴾

لپاره د دې چې بېل کړي الله خبيث (ناپاک کافر) له طيب (پاک مؤمن) څخه، او بيا کېږدي خبيث (ناپاک سره لاندې باندې) ځنيې د ده په ځينو نورو باندې، نو راجمع به کړي دا (خبيثان) ټول، نو وبه يې غورځوي په دوزخ کې، دغه (خبيثان يا مال لګوونکي) همدوی زيانکاران دي.

تفسير: يعنې د هغو په قسمت کې چې اسلام ليکلی شوی دی؛ هغوی به ګرد مسلمانيږي، او د هغوی مړ ک چې په کفر کې ليکلی شوی دی؛ هغوی به ګرد په کفر کې مري، او ټول به دوزخ ته لاړ شي.

قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓا إِن يَنتَهُوا يُغْفَرْ لَهُم مَّا قَدْ سَلَفَ ۖ وَإِن يَعُودُوا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ الْأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾

ووايه (ای محمده !) هغو کسانو ته چې کافران شوي دي، که واوړي (بس کړي له کفره)، نو وبه بخښلی شي دوی ته هغه بدی چې په تحقيق پخوا تېرې شوې وې، او که بيا وګرځي (کلک شي په کفر او جنګ)؛ نو په تحقيق تېره شوې ده لاره (عادت د الله په حق) د پخوانيو (په نجات د مؤمنانو او هلاک د کافرانو).

تفسير: يعنې که اوس هم له کفره او طغيانه او د اسلام له عداوته لاس واخلي، او د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم اطاعت اختيار کړي؛ لومړی دکفر په حالت کې څه ګناه او معاصي چې دوی کړي وي؛ هغه ګردې ورمعافيږي، «الإسلام يهدم ما قبله».

هو ! حقوق العباد به نه ورمعافيږي، ځکه چې د هغو مسئله خو بېله ده.

او که بيا عود وکړي قتل، عداوت، کفر او معصيت ته؛ نو په تحقيق تېره شوې ده لاره عادت د الله په حق د پخوانيو کې، يعنې څرنګه چې د پخوانيو رسولانو عليهم السلام له تکذيبه او عداوته خلق تباه شوي دي، په دوی به هم تباهي راځي.

يا دا مطلب دی لکه چې په بدر کې د دوی نورو خپلوانو ته سزا ورکړی شوه، دوی ته به هم سزا ورکړی شي.

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ۚ فَإِنِ انتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٣٩﴾ وَإِن تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَوْلَاكُمْ ۚ نِعْمَ الْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ النَّصِيرُ ﴿٤٠﴾

او وجنګېږئ (ای مؤمنانو !) له دغو (کفارو) سره تر هغه پورې چې نشي پاتې فتنه (فساد په ځمکه کې) او شي دین (حکم) ټول خاص الله لره (او نور ټول باطله ادیان محکوم شي)، نو که واوړي دوی (له کفره او اسلام راوړي)؛ نو بېشکه الله پر هغو عملونو چې دوی یې کوي ښه لیدونکی (بینا) دی. او که مخ وګرځوي دوی (له ایمانه)؛ نو پوه شئ (ای مؤمنانو !) چې بېشکه الله مولی (بادار ساتونکی) ستاسې دی، (الله) ښه مولی (او نېک بادار حامي او ساتونکی) دی او (الله نېک) او ښه مددګار دی.

تفسیر: یعنې تر هغه پورې له کفارو سره وجنګېږئ چې په ځمکه کې فتنه او فساد پاتې نشي، او د کافرانو زور پاتې نشي: چې له ایمانه خلق منع کړي، یا د حق دین له محو کولو څخه مسلمانان وویریږي، چې که اظهار یې وکړو؛ وبه وژلی شو، لکه چې د (فتنه) همدغه تفسیر د احادیثو په کتابو کې له ابن عمر او نورو اصحابو رضوان الله تعالی علیهم أجمعین څخه هم منقول دی.

﴿فَإِنِ انتَهَوْا﴾ : یعنې د هغو لپاره چې په ښکاره ډول (طریقه) له کفر او شرارته بېرته وګرځي؛ قتل نشته، د دوی د زړونو حال، او د مستقبل کیفیات دې الله تعالی ته وروسپارل شي ! هر ډول عمل او کار چې دوی کړی وي؛ هغه د پاک الله له علمه نه پټیږي، او تل ورته معلوم دی، مسلمان یواځې له ظاهري حال سره موافق پر عمل کولو مکلف دی:

وفي الحدیث: «أمرت أن أقاتل الناس حتی یقولوا: لا إله إلا الله، فإذا قالوها عصموا مني دماءهم وأموالهم إلا بحقها، وحسابهم علی الله عز وجل» «زه مامور یم په دې چې جهاد وکړم د خلقو سره تر هغه چې ووایي دوی کلمه د لا إله إلا الله، نو کله چې وویله دوی دا کلمه نو ویې ساتلې ځما نه وینې خپلې (چې نه به وژل کیږي) او مالونه خپل مګر په حق سره (چې قصاص دی) او حساب د دوی سپارلی شوی دی الله عز وجل ته (که یې ښې یا یې نه ښې»، یعنې مسلمانانو ته ښایي چې د الله تعالی په مرسته (مدد) او حمایت باندې اطمینان او اعتماد ولري !او جهاد وکړي ! د کفارو له کثرت او د دوی له وسلو او سامان او اسباب څخه دې له سره ونه ویریږي ! لکه چې د «بدر» په غزا کې یې ولیدل، چې الله تعالی د مسلمانانو څومره ښه مرسته (مدد) حمایت او امداد وفرمایه، (علمنا أن الله مولانا، نعم المولی ونعم النصیر).

وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ ۙ إِن كُنتُمْ آمَنتُم بِاللَّهِ وَمَا أَنزَلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤١﴾

او پوه شئ (ای مسلمانانو !) بېشکه هر هغه شی چې په غنیمت واخیست تاسې (له کفارو په غلبې سره) له یوه شي نه؛ نو بېشکه الله لره دی (حکم کول په) خمس د هغه (کې) او (دغه خمس ثابت دی) لپاره د رسول (د الله) او لپاره د خپلوانو (د رسول الله) او (لپاره د) یتیمانو او (لپاره د) مسکینانو (محتاجانو) او (لپاره د) مسافرانو (او پاتې څلور برخې دې لپاره د غازیانو، او صبر و کړئ پر دغه تقسیم ای مقاتلانو !) کـه ایمان لـرئ په الله او پـه هغو (آیتونو یا ملائکو یا نصرت) چې نازل کړي

دي مونږ پر بنده خپل په ورځ د فیصلې کې (د حق له باطل څخه چې د بدر ورځ وه)، هغه ورځ چې سره مخامخ شولې دواړه جمعې (ډلې)، او الله پر هر شي باندې ښه قادر دی (چې ځینې یې غلبه د لږ په ډېرو ده).

تفسیر: د دې سورت په ابتداء کې یې فرمایلي وو: ﴿قُلِ الْأَنفَالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ﴾ دلته د هغه لږ څه تفصیل کوي، چې هغه غنیمت چې د کفارو له جنګه وروسته د مسلمانانو په لاس راشي، د هغه خمس او پنځمه برخه د الله تعالی نیاز دی، چې هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم وصولوي، او دی یې پر دغه پنځو مصرفونو لګوی شي:

(۱): په خپل ځان باندې.

(۲): پر خپلو خپلوانو باندې چې بني هاشم او بني المطلب دي، چې له پخوا راهیسي دوی د الله تعالی په لاره کې کار او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نصرت او امداد یې کړی دی، او د اسلام له خاطره یا یواځې د قرابت او خپلوۍ له وجې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې مرستې کړي دي، او د «زکات» او د نورو صدقاتو اخیستل پر دوی باندې حرام شوي دي.

(۳): پر یتیمانو (پلار مړیو) باندې.

(۴): پر محتاجانو مسلمانانو باندې.

(۵): پر مسافرانو باندې، بیا هغه نور څلور برخې غنیمت چې پاتې کیږي؛ پر غازیانو باندې تقسیم کیږي، سور ته دوه برخې او پلي (پیاده) ته یوه برخه ورکوله کیږي.

﴿يَوْمَ الْفُرْقَانِ﴾ «د فیصلې له ورځې» څخه مراد «یوم البدر» دی، چې په هغه کې د حق او باطل ترمنځ ښکاره فیصله وشوه، په دغه ورځ کې حق تعالی خپل ډېر کامل بنده محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بری، فتح او نصرت ورکړ، او د ملائکو امداد یې ورولېږه، او د سکون او اطمینان کیفیت یې نازل وفرمایه، نو هغه کسان چې پر الله تعالی او د الله تعالی پر غیبي تأییداتو ایمان لري، نو پر دوی باندې له غنائمو ځنې د الله تعالی پر نامه «خمس ـ پنځمه برخه» ایستل دومره درونده کار نه دی.

﴿وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ : یعنې لکه چې الله تعالی په هغه ورځ کې تاسې مظفر او منصور ګرځولي یئ، هم دا اوس او په راتلونکي زمانه او په هر وخت کې ښه قادر دی؛ چې تاسې ته غلبه او فتوحات عنایت وفرمایي.

إِذْ أَنتُم بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا وَهُم بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوَىٰ وَالرَّكْبُ أَسْفَلَ مِنكُمْ ۚ وَلَوْ تَوَاعَدتُّمْ لَاخْتَلَفْتُمْ فِي الْمِيعَادِ ۙ وَلَٰكِن لِّيَقْضِيَ اللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَن بَيِّنَةٍ وَيَحْيَىٰ مَنْ حَيَّ عَن بَيِّنَةٍ ۗ وَإِنَّ اللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٤٢﴾

(یاد کړئ ای مسلمانانو !) هغه وخت چې وئ تاسې په څنډې (غاړې) د (کندې) نژدې (مدینې ته) او وو دغه (کفار) په څنډې (د کندې هسې څنډه چې) لرې (وه له مدینې نه)، حال دا چې سواره (قافله) ښکته وو له تاسې، او که یو تر بله وعده کړې وه تاسې (د جنګ) نو خامخا به مخالفت کړی وی تاسې په دغه وعده کې، ولیکن (بې له وعدې جمع کړئ تاسې الله) لپاره د دې چې پوره کړي الله هغه کار چې وو مقرر شوی (په ازلي علم د ده کې چې نصرت د احباوو او ذلت د اعداوو دی) لپاره د دې چې هلاک شي هغه څوک چې له شان یې هلاک وي پس له قیامه د حجت روښان څخه، او ژوندي پاتې شي هغه څوک چې له شان

يې ژوندون وي پس له قيامه د روښانه حجت، او بېشكه الله خامخا ښه اورېدونكى (د كردو اقوالو) ښه عالم دى (په ټولو احوالو).

تفسير: له نژدې څنډې (غاړې) څخه مراد د جنګ د ميدان هغه جانب دى؛ چې مدينې طيبې ته قريب وو، همداسې له لرې څنډې (غاړې) څخه مقصد هغه طرف دى؛ چې له مدينې منورې څخه لرې و، يعنې د أبو سفيان قافله مخ په ځوړې (ښكته) د سمندر په څنډه څنډه (غاړه غاړه) كې تلله، د قافلې او مسلمانانو په منځ كې د قريشو فوځ حائل شوى وو، كه فريقين له يخوا څخه د جنګېدلو لپاره كوم وخت او نېټه مقرر ول غوښتل؛ نو ممكن وو چې په هغه كې څه اختلاف واقع كېده، يا د وعدې د رسېدلو په وخت كې به يې يوه ډله وړاندې وروسته كوله، ځكه چې له يوه جانبه مسلمانان د كفارو له تعداد او ظاهري اسلحې او سامان څخه وېره كې وو، او له بل طرف كفارو د مسلمانانو د حقانيت او الله پرستى او زړورتوب خنې ويرېدل، نو دواړو ته د جنګ په ذمه وارى اخيستلو او د هغه په شركت كولو كې تردّد او تقاعد پېښېدى شو، وليكن بې له وعدې يې سره جمع كړئ تاسې.

قريش د خپلې قافلې د مدد لپاره او تاسې پر قافلې باندې د حملې كولو لپاره راغلي وئ، قافله تېره شوه، او دواړه فوځونه د يوه ميدان پر دوو څنډو (غاړو) باندې سره ونښتل، حال دا چې يو د بل له حال څخه نه وو خبر، دغه د الله تعالى تدبير وو، كه تاسې قصداً ورتلئ نو داسې په مناسب وخت به پر دوى نه رسېدئ، او د دغې فتحې څخه وروسته كافرانو ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم صداقت وښكاره شو، هغه چې مړه شول هم په يقين سره پوهيدلي مړه شول، او هغه چې ژوندي پاتې شول؛ هغوى هم حق په ښه ډول سره وپېژند، او وپوهيدل چې د الله تعالى الزام پوره شو، كذا في الموضح.

او ممكن دى له مړ كېدلو او ژوندي پاتې كېدلو څخه كفر او ايمان مراد وي، يعنې اوس څوك چې ايمان راوړي، او هغه چې په كفر همغسې ټينګ پاتې شي؛ د دواړو ايمان او كفر د حق له ښكاره كېدو څخه وروسته دى.

إِذْ يُرِيكَهُمُ اللَّهُ فِي مَنَامِكَ قَلِيلًا ۖ وَلَوْ أَرَاكَهُمْ كَثِيرًا لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ سَلَّمَ ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٤٣﴾

(ياد كړه) هغه وخت چې وښوول تاته دغه (كفار) الله په خوب ستا كې لږ، (چې اصحاب پرې خبر كړې، او دوى پرې ډاډه شي، او برابر پرې ورشي) او كه ښوولي وى (الله) تاته (اى محمده !) دوى ډېر (او بيا وتلي وې اصحابو ته)؛ نو خامخا بې زړه شوي به وى تاسې (اى اصحابو)، او خامخا جګړې به مو كولې په كار كې (د جنګ چې ترې په څنګ شو يا ورسره جنګ وكړو) وليكن الله سلامت وساتلئ (تاسې له بې زړه توب او نزاع)، بېشكه دغه (الله) ښه عالم (دانا) دى پر هغو خبرو (هم) چې په زړونو كې دي.

تفسير: ﴿وَلَوْ أَرَاكَهُمْ كَثِيرًا﴾ «او كه ښوولي وى الله تاته دغه (كفار) ډېر»، يعنې كه تاسې دوى زيات ګڼلي وى، ځينو به د جنګېدلو همت كولو، او ځينو به نه كولو، او داسې اختلاف به واقع كېده، او په كار كې به خلل او بې انتظامي پيدا كېده، الله تعالى رسول الله مبارك صلى الله عليه وسلم ته په خوب كې لږ تعداد وروښود، او له وېرې او بې زړه توب څخه يې وژغورلئ (وساتلئ)، هغه ښه پوهيږي چې له كوم شي ځنې په زړونو كې همت او شجاعت پيدا كيږي؟ او له كومې خبرې ځنې بې زړه توب او وېره پيدا كيږي؟.

وَإِذْ يُرِيكُمُوهُمْ إِذِ الْتَقَيْتُمْ فِي أَعْيُنِكُمْ قَلِيلًا وَيُقَلِّلُكُمْ فِي أَعْيُنِهِمْ لِيَقْضِيَ اللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا ۗ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٤٤﴾

او (یاد کړئ) کله چې وښوول تاسې ته (الله) هغه (دښمنان ستاسې) په هغه وخت کې چې سره مخامخ شوئ په سترګو ستاسې کې لږ، او لږ ښکاره کړئ تاسې (الله) په سترګو د دښمنانو کې لپاره د دې چې وکړې ته هغه کار چې وو مقرر کړی شوی (په ازلي علم د الله کې) چې وکړی شي (چې هغه نصرت د مؤمنانو او ذلت د کفارو دی)، او خاص الله ته بېرته ګرځولي شي ټول کارونه.

تفسیر: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په خوب کې د کفارو شمېر تر نظر لږ راغلی وو، او مسلمانانو ته هم د مقابلې په وخت کې لږ ښکاره ده، څو په جرأت، زړورتیا، او مېړانې (بهادري) وجنګیږي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوب نشي غلط کېدی، ځکه چې په دوی کې کافر پاتې کیدونکي سړي ډېر لږ وو، زیاتره هغه کسان وو چې وروسته بیا مسلمانان شول، او د خوب تعبیر همداسې کېدی شي، چې د لږ تعداد څخه مراد د دوی د مغلوبیت اظهار وي، باقي د کفارو په نظر کې چې د مسلمانانو تعداد لږ ښکاره ده؛ نو هغوی واقعا لږ وو، دا د هغه وخت واقعه ده، کله چې دواړه فوځونه سره مخامخ شول، بیا کله چې مسلمانانو په مېړانه (بهادری) سره په حملو شروع وکړه، او د پرښتو د لښکر مرسته ورورسېده، په دغه وخت کې د مسلمانانو فوځ د کفارو په سترګو کې د دوی په نسبت یو په دوه ښکاره ده: ﴿وَأُخْرَىٰ كَافِرَةٌ يَرَوْنَهُم مِّثْلَيْهِمْ رَأْيَ الْعَيْنِ﴾ (۳ جزء د آل عمران سورت (۱۳) آیت (۲) رکوع).

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٤٥﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) کله چې مخامخ شئ کوم فوځ (د دښمن) سره (چې جنګ درسره کوي) نو ثابت قدم اوسئ تاسې (او مه ترې تښتئ)، او یادوئ الله ډېر (په خوله او زړه) ښایي چې تاسې په مراد ورسېږئ (په بري سره پر دښمن د ذکر په برکت).

تفسیر: په دې کې لمونځ، دعا، تکبیر او نور هر قسم ذکر الله شامل دي، د الله د ذکر تاثیر دا دی، چې د ذاکر زړه وربانديې قوي او ډاډه کیږي، چې دغه ډاډ ګېرنې ته په جهاد کې له هر شي څخه زیات ضرورت شته، د اصحابو کرامو رضوان الله تعالی علیهم أجمعین له ګردو (ټولو) څخه لویه وسله همدغه ډاډینه وه: ﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾ (۱۳ جزء د «الرعد» سورت (۴) رکوع (۲۸) آیت).

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ ۖ وَاصْبِرُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿٤٦﴾

او حکم ومنئ تاسې د الله او د رسول د دغه (الله) او مه کوئ جګړه په خپلو منځونو (په کار د جهاد کې) پس بې زړه به شئ تاسې او لاړ به شي باد (د نصرت او قوت او د دولت) ستاسې، او صبر کوئ (په قتال او سختیو)، بېشکه الله له صابرانو سره دی (په جنګ کې په نصرت او حفاظت).

تفسیر: په دغه آیت کې مسلمانانو ته ښوولي شوي دي، چې د بري کلي ګاني (چاپیاني) کوم کوم شیان دي؟ یواځې په دولت، لښکر، جبه خانې، لوازمو او تجهیزاتو سره فتح، بری او نصرت نه حاصلیږي، بلکه په ثابت قدمی، صبر، استقلال، قوت د زړه، ډاډ د الله تعالی په یاد او د رسول الله او د دوی د خلیفه ګانو په اطاعت او فرمانبرداری، د یو له بل سره په اتفاق او اتحاد سره هم په لاس راځي، په دغه موقع کې مې زړه بې اختیاره وغوښتل چې د أصحاب

کرامو رضي الله تعالى عنهم په نسبت د «ابن کثير» څو الفاظ نقل کړم، چې د اخلاص او ايمان له انتهايي عمق څخه وتلي دي،:

«وقد كان للصحابة رضي الله عنهم في باب الشجاعة والائتمار بما أمرهم الله ورسوله به وامتثال ما أرشدهم إليه ما لم يكن لأحد من الأمم والقرون قبلهم، ولا يكون لأحد ممن بعدهم، فإنهم ببركة صحبة الرسول صلى الله عليه وسلم وطاعته فيما أمرهم فتحوا القلوب والأقاليم شرقا وغربا في المدة اليسيرة مع قلة عددهم بالنسبة إلى جيوش سائر الأقاليم من الروم والفرس والترك والصقالبة والبربر والحبوش وأصناف السودان والقبط وطوائف بني آدم، قهروا الجميع حتى علت كلمة الله وظهر دينه على سائر الأديان، وامتدت الممالك الإسلامية في مشارق الأرض ومغاربها في أقل من ثلاثين سنة، فرضي الله عنهم وأرضاهم أجمعين، وحشرنا في زُمرتهم، إنه كريم تواب».

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ خَرَجُوا مِن دِيَارِهِم بَطَرًا وَرِئَاءَ النَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۚ وَاللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٤٧﴾

او مه کېږئ (ای مؤمنانو) په شان د هغو کسانو چې راووتل له کورونو خپلو لپاره د فخر او ښودنې خلقو ته (شوکت، دبدبه خپله) او اړوي دوی (خلق) له لارې د الله څخه، او الله پر هغو کارونو چې کوي يې دوی محيط (چاپېر دی علم او قدرت د ده؛ نو جزا به پرې ورکړي).

تفسير: ابو جهل سره له خپلو لښکرو او ډولونو او نغارو په ډېر شان او شوکت سره د بدر جنګ ته وتلی وو، چې مسلمانان وويريږي، او د عربو په نورو قبائلو باندې هم د مشرکانو وېره او اثر ولويږي، په لاره کې د ابو سفيان پيغام ورورسېد، چې «قافلې له سختې خطرې څخه نجات وموندە او درغله، اوس تاسې هم د مکې په لوري ببرته ستانه شئ».

ابو جهل په بې انتهايي غرور سره وويل چې: «مونږ به هلته ببرته لاړ شو؛ چې د بدر پر چينو او رڼو اوبو باندې ورسيږو، او هلته د طرب او نشاط مجالس منعقد کړو، سازندګاني او نغمې ويونکې ښځې د خوښي او بري سندرې ووايي، او په زړه پورې آتڼونه پرې واچوو، شرابونه وڅښو، او ښه سيلونه او مزې وکړو، او تر درې شپو او ورځو پورې اوښان حلال کړو، او عربي قبائلو ته ښه ميلمستيا ورکړو، او داسې ښې چرچې وکړو؛ چې دغه ورځ د عربو په منځ کې د هميشه لپاره يادګار پاتې وي، او په آينده کې د دغو لږو او کمزورو مسلمانانو حوصله بيخي ماته شي، چې بيا له سره ځمونږ د مقابلې جرأت او زړورتوب ونشي کړی.

خو د هغه په ځای د نوحې او ماتم او ويرِ او ژړا صفونه او قطارونه له (بدره) تر مکې معظمې پورې وترل شول، همغه مال چې دوی د تفاخر، تظاهر، او ښودنې لپاره لګولو؛ د مسلمانانو د غنيمت نوړی او لقمه شوه، د ايمان او توحيد د دائمې غلبې د تاداو (بنياد) تيږه (ګټه) د بدر په ډګر او ميدان ودروله شوه، ګواکې په دې ډول سره په دغې وړوکې ځمکې کې الله تعالى دڅولې نړۍ د ګردو ملتونو او اقوامو د قسمتونو فيصله وفرمايله.

په هر حال په دغه آيت کې يې مسلمانانو ته خبر ورکړی، چې جهاد يوائې د وژلو او وينو تويولو د هنګامې نوم نه دی، بلکه عظيم الشأن عبادت دی، په عبادت کې هر څوک چې ريا يا ښودنې وکړي، نو هغه نه قبليږي، لهذا تاسې په فخر، غرور، ښودنې او تظاهر کې کفارو پسې مه درومئ !.

وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَإِنِّي جَارٌ لَّكُمْ ۖ فَلَمَّا تَرَاءَتِ الْفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ وَقَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكُمْ إِنِّي أَرَىٰ مَا لَا تَرَوْنَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ ۚ وَاللَّهُ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٤٨﴾

او (یاد کړئ) هغه وخت چې شیطان عملونه د دوی، او ویې ویل: چې نشته هیڅ غالب پر تاسې نن ورځ له خلقو، او بېشکه زه ساتونکی یم ستاسې، نو کله چې سره ولیدل (مخامخ شول) دواړه فوځونه (د اسلام او کفر) بېرته یې منډې کړې په پوندو خپلو (یعنې وتښتېده) او ویې ویل: بېشکه زه بېزار یمه له (ساتنې) ستاسې، او بېشکه زه وینم هغه (فوځ د ملائکو چې راځي په معاونت د مؤمنانو) چې نه یې وینئ تاسې، بېشکه زه ویرېږم له الله، او الله سخت دی عقوبت (د ده).

تفسیر: قریش پر خپل جمعیت او قوت مغرور وو، لیکن د دوی په زړونو کې داسې یوه خطره پیدا شوې وه، نه چې «بني کنانه» ځمونږ د دغه بري په لاره کې څه مشکلات پیدا کړي، دلته سمدلاسه شیطان د دوی د شا تېولو او همت زیاتولو لپاره د (کنانة) د لوی سردار «سراقة بن مالك» په صورت د خپلو ذریاتو له فوجه سره یو ځای ورښکاره شو، او ابو جهل او نورو مشرکانو ته یې اطمینان ورکړ، چې مونږ ګرد ستاسې د مرستې او حمایت لپاره راغلي یو، او د (کنانة) له طرفه بیخي بې غمه اوسئ، مونږ له تاسې سره یو.

کله چې په بدر کې د زور او قوت مسابقې شروع شوې، او د شیطان په نظر کې جبرئیل علیه السلام او نورې پرښتې راغللې، نو د ابو جهل له لاسه یې خپل لاس وکښه، او ژر په خپلو پوندو وګرځېد، او ابو جهل ور غږ کړې: «ای سراقه ! د جنګ او جګړې په دغه شدت کې په چل او فریب سره چېرې تښتې؟ راځه بېرته راوګرځه او لښکر مه بې زړه کوه !»، سراقه وویل: «زه ستاسې سره نشم پاتې کېدی، زه هغه شیان وینم چې تاسې یې نه شئ لیدئ یعنې (پرښتې) د الله تعالی، (یعنې د دې حزب الله) له وېرې څخه مې زړه ریږدي (رپېږي) او اندامونه مې لړزېږي، اوس په ما کې د درېدلو قوت نشته، زه ډارېږم چې په کوم سخت عذاب او آفت کې اخته نشم».

«قتادة رحمه الله» وایي چې: دغه ملعون دروغ وویل، د ده په زړه کې د الله تعالی وېره نه وه، هو ! هغه پوهېده چې اوس د قریشو لښکرې د هلاکت په کنده کې لوېدلې دي، او هیڅ یو قوي دوی نشي ژغورلی (ساتلی)، دا د هغه قدیمي عادت دی، چې خپلو پیروانو ته کړې لارې ښیي، او دوی وغولوي، کله چې هغوی د هلاکت په کنده کې وښویوي؛ نو دلته خپله پښه بېرته راکاږي، چې سم له هغه سره یې دلته هم داسې وکړل: ﴿يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيهِمْ ۖ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا﴾ (۵ جزء د النساء سورت (۱۲۰) آیت (۱۸) رکوع)، ﴿كَمَثَلِ الشَّيْطَانِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَانِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ﴾ (۲۸ جزء د الحشر سورت (۱۶) آیت، (۲) رکوع)، ﴿وَقَالَ الشَّيْطَانُ لَمَّا قُضِيَ الْأَمْرُ إِنَّ اللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدتُّكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ ۖ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ إِلَّا أَن دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي ۖ فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوا أَنفُسَكُم ۖ مَّا أَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَا أَنتُم بِمُصْرِخِيَّ ۖ إِنِّي كَفَرْتُ بِمَا أَشْرَكْتُمُونِ مِن قَبْلُ ۗ إِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ (۱۳ جزء د ابراهیم سورت (۲۲) آیت (۴) رکوع).

إِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ غَرَّ هَٰؤُلَاءِ دِينُهُمْ ۗ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَإِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٩﴾

(یاد کړئ !) هغه وخت چې ویل منافقانو (د مدینې) او هغو کسانو چې په زړونو د دوی کې مرض وو (د اعتقاد ضعف) چې: مغرور کړي دي دغو مؤمنانو لره دین د دوی (چې سره له

لږوالي او بې اسبابو پر ډېرو وسلو لرونکو ورځې، وفرمايل الله په ځواب د دوی کې): او هر څوک چې توکل وکړي په الله؛ نو (غالبږي ځکه چې) بېشکه الله ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا دی (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ يَتَوَفَّى الَّذِينَ كَفَرُوا الْمَلَائِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ وَذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ ﴿٥٠﴾

او که وويني (ای محمده !) هغه وخت چې قبض د روح کوي د هغو کسانو چې کافران شوي دي؛ پرښتې، په دې حال کې چې وهي به مخونه د دوی او شاګانې د دوی، او (وايي به ورته): وڅکئ تاسې عذاب د (اور) سوځوونکی (نو وبه ګورې يو له شرمه ډک حال).

تفسير: يعنې پرښتې د ځنکدن د عذاب په وخت کې دوی ته وايي چې: اوس خو دغه درواخلئ او د جهنم د عذاب خوند به وروسته وڅکئ، ډېرو مفسرينو دا هم د بدر په واقعه کې داخل کړی دی، يعنې په هغه وخت کې هر هغه کافر چې وژل کېده، نو له هغه سره پرښتو همداسې معامله کوله، مګر د آيت الفاظ ګردو کفارو ته عام دي، نو ځکه دغه راجح معلوميږي چې دغه واقعه به په عالم برزخ کې وي، نو د دې تعلق به د بدر له واقعاتو سره داسې وي، چې په دنيا کې د دغو کفارو حال داسې شو، او په برزخ کې به داسې کيږي، نو د آخرت د عذاب په نسبت به څه وويل شي، چې هغه به څرنګه مدهش وي؟ !

ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ وَأَنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿٥١﴾

دغه (تعذيب) په سبب د هغه (بد عمل) دی چې وړاندې لږلی وو لاسونو ستاسې، او بېشکه الله نه دی هيڅ ظلم کوونکی په بندګانو خپلو (چې بې ګناه يې په عذاب کړي).

تفسير: دغه ګرد ستاسې د اعمالو نتيجه او سزا ده، که نه د الله تعالی له لوري د ظلم او تيري هيڅ يوه معامله کېدونکې نه ده، او «ظلاّم» يې ځکه وفرمايه، چې که «معاذ الله» د هغه د لوري د يوې ذرې سره په اندازه د ظلم امکان وي؛ نو هغه به د خپل عظمت د شان په لحاظ ظالم نه بلکه ظلاّم به وي، ځکه چې د کامل هر صفت هرومرو (خامخا) ښايي چې کامل وي، اوس الله تعالی د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم د تسلی لپاره فرمايي چې د قريشو حال ستا سره داسې دی:

كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٥٢﴾

لکه حال د تابعانو د فرعون (له موسی سره) او (لکه حال د) هغو کسانو چې وو پخوا له دوی نه (له انبياوو خپلو سره، هغه عادت دا وو) چې کافران شوي وو په آيتونو د الله؛ نو نيولي وو دوی لره الله په ګناهونو د دوی، بېشکه الله قوي (زورور) دی، ډېر سخت دی عذاب (د ده).

ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً أَنْعَمَهَا عَلَىٰ قَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ وَأَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٥٣﴾

دغه (تعذيب) په سبب د دې دی؛ چې په تحقيق الله نه دی بدلوونکی د (هغه) نعمت چې انعام کړی يې وي پر يوه قوم باندې تر هغه پورې چې بدل (نه) کړي دوی هغه حال چې په نفسونو د دوی کې دی، او بېشکه الله ښه اورېدونکی (د ګردو اقوالو) ښه عالم دی (په ټولو احوالو).

تفسير: شاه صاحب ليکي: «تر هغه پورې چې نيت او اعتقاد بدل نشي، نو د الله تعالى ورعطا شوي نعمتونه بېرته نه اخيستل کيږي»، ځکه چې له ﴿مَا بِأَنفُسِهِمْ﴾ څخه خاص نيت او اعتقاد مراد شوی دی، لکه چې له ترجمې څخه ظاهريږي، والله أعلم.

كَدَأْبِ ءَالِ فِرْعَوْنَ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَذَّبُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ فَأَهْلَكْنَاهُم بِذُنُوبِهِمْ ۗ وَأَغْرَقْنَا ءَالَ فِرْعَوْنَ ۚ وَكُلٌّ كَانُوا ظَالِمِينَ ﴿٥٤﴾

(حال د دوی) لکه حال د تابعانو د فرعون دی (له الله سره) او (لکه حال) د هغو کسانو دی چې پخوا له دوی نه وو، (او هغه عادت دا وو) چې نسبت د دروغو يې کړی وو په آيتونو د رب خپل؛ نو هلاک کړل مونږ دوی په سبب د ځکناهونو د دوی، او غرق (ډوب) کړل مونږ تابعان د فرعون، او (دوی) ټول وو ظالمان.

إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِندَ اللَّهِ الَّذِينَ كَفَرُوا فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٥٥﴾ الَّذِينَ عَاهَدتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنقُضُونَ عَهْدَهُمْ فِي كُلِّ مَرَّةٍ وَهُمْ لَا يَتَّقُونَ ﴿٥٦﴾

بېشکه بدتر د خوځيدونکو (تلونکو) په نزد د الله هغه کسان دي، چې کافران شوي دي نو دوی ايمان نه راوړي. هغه کسان چې معاهده ترلې وه تا له دوی سره، بيا ماتوي دوی عهد خپل په هر کرت کې او دوی نه ويريږي (له دې عهد ماتولو څخه).

تفسير: هغو کسانو چې لکه ابو جهل ـ نضر ـ عتبه او کعب بن أشرف د تل لپاره کفر او بې ايماني غوره کړې، او له انجامه بالکل بې خوفه شوي دي، او هغه کسان چې (لکه بني قُريظه) په غداری او بد عهدی سره معتاد شوي دي؛ دوی د الله تعالى په نزد ډېر بد حيوانان دي، د فرعون حال په بد عهدی او غداری کې هم داسې وو: ﴿وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ قَالُوا يَا مُوسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ ۖ لَئِن كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿١٣٤﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ إِلَىٰ أَجَلٍ هُم بَالِغُوهُ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ﴾ (٩ جزء د الأعراف سورت (١٣٤) آيت (١٦) رکوع).

او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې د «بني قُريظه» د يهودانو او د نورو هم دغه خصلت وو، چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره به يې عهد کاوه، چې مونږ د مکې معظمې له مشرکانو سره مرسته نه کوو، بيا به يې له دوی سره مرسته کوله، او ويل به يې: چې عهد مو په ياد نه وو، هر کرت به يې داسې کول، وروسته دا رابنيي چې له داسې غدارانو سره څرنګه ښايي چې معامله وکړی شي.

فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِم مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً فَانبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَىٰ سَوَاءٍ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْخَائِنِينَ ﴿٥٨﴾

نو که وموميې ته (ای محمده !) دوی په جنګ کې؛ پس تيت کړه (سزا ورکړه) او وويروه په سبب د تيتولو (سزا ورکولو) د دوی هغه کسان چې وروسته له دوی نه دي (د کافرانو محاربانو نه) لپاره د دې چې دغه وروستني خلق عبرت واخلي، او که وېرېږي (ای محمده !) له کوم قوم (چې وعده يې کړېده له تاسره) د خيانت؛ نو وغورځوه دوی ته (دغه عهد) په (داسې ډول چې شئ تاسې او هغوی سره) برابر، بېشکه الله نه خوښوي خيانت کوونکي.

تفسير: يعنې که دغه خائنان او غداران معاهدان ښکاره معاهدې تر شا وغورځوي، او ستاسې په مقابل کې د جنګ ميدان ته راشي، نو دوی ته داسې سخته جزا ورکړئ، او په قتل، جرح او نورو سره يې داسې وترهوئ؛ چې د هغې له

ليدلو څخه د دوی هغه بېرته وروسته پاتې شوي ملګري يا له دوی نه وروسته راتلونکي نسلونه هم عبرت واخلي، او د عهد ماتولو جرأت ونشي کړی.

که يوه قوم ښکاره خيانت ونه کړ، بلکه له آثارو او قرائنو څخه دا خبره څرګنده شوه، چې دوی عهد ماتولو ته تيار دي، نو تاسې ته هم اجازه شته، چې د مصلحت په تقدير د دوی عهد بېرته ورکړئ، او د معاهدې د انتهاء اطلاع هغوی ته ورکړئ !، او بالمقابل له هغوی سره مناسبه رويه وکوئ، چې د دواړو ډلو په زړونو کې د پخوانيو معاهداتو په نسبت هيڅ يو شک او اشتباه پاتې نشي، او دواړه په مساويانه ډول سره خبردار، بيدار او هوښيار اوسي، او د خپلو ځانونو په تيارۍ او حفاظت کې مشغول اوسي، او ستاسې له جانبه څه غلا او خيانت ونشي، او ګردې معاملې سره ښکاره او صافې وي، الله تعالى خيانت اګر که له کفارو سره هم وي؛ نه خوښوي.

په سننو کې روايت دی چې امير معاويه رضي الله تعالى عنه له «روم» سره ميعادي معاهده درلوده (لرله)، د دغه ميعاد په منځ کې امير معاويه رضي الله تعالى عنه خپلو فوځونو ته د «روم» د سرحداتو په لوري د پرمختګ امر ورکړ، مقصد يې داسې وو چې اسلامي فوځ دې د رومیانو سرحداتو ته دومره نژدې او بالکل تيار اوسي، چې د معاهدې د نېټې د تېرېدلو سره متصل دوی پخپلو تعرضونو پيل (ابتداء) وکړي.

څه وخت چې دغه کار جاري وو، يو سپين ګيري په داسې حال چې په آس سور وو راغی، چې داسې يې وويل: «الله أكبر، الله أكبر، وفاءً لا غدراً»، يعنې عهد پوره کړئ، او عهد مه ماتوئ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «کله چې کوم قوم سره معاهده ولرئ، نو هيڅ يوه غوټه دې ونه پرانستله شي !، او نه دې وتړله شي، تر هغه پورې چې د معاهدې نېټه پوره شي، يا مقابلې ډلې ته په مساويانه حيثيت سره معاهده ورمسترده شي !».

کله چې معاويه رضي الله تعالى عنه ته دغه خبر ورسېد؛ نو ژر له خپله فکره بېرته وګرځېد، او چې ويې ليد، هغه سپين ګيری عمرو بن عنبسه رضي الله تعالى عنه وو.

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَبَقُوا ۚ إِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُونَ ﴿٥٩﴾

او نه دې کوي ګمان هغه کسان چې کافران شوي دي؛ چې دوی به وتښتي (له عذابه او خلاص به شي) ! بېشکه دوی له سره نشي مغلوبولی (الله له تعذيب خپل).

وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ ۖ لَا تَعْلَمُونَهُمُ ۖ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿٦٠﴾

او تياروئ (ای مؤمنانو !) لپاره (د جنګ) د دغو (ماتوونکو د عهد يا د مطلق کفارو) څومره چې توانېږئ (جمع کولی شئ) تاسې له قوت (اسباب د جنګ) او له روزل شوو ساتل شوو آسونو (لپاره د جهاد) چې ويروئ تاسې په دغه (قوت او تيارۍ) سره دښمنان د الله او دښمنان ستاسې او نور کسان بې له دوی نه چې نه پېژنئ تاسې هغوی، الله عالم دی په (عداوت د) هغوی، او هر هغه څه چې نفقه کوئ (لګوئ) تاسې له يوه شي په لاره د الله کې (لپاره د ترقی د دين)؛ پوره (بدل د هغه) به درکړ شي تاسې ته حال دا چې پر تاسې به ظلم ونه کړی شي (د -ثواب په لږوالي او د عذاب په ډېر والي).

تفسير: په الله تعالى داعتماد او توكل كولو معنى دا نه ده؛ چې ضروري او مشروع اسباب دې ترك كړې شي، ځكه چې په مسلمانانو فرض دي، تر هغه پورې چې قدرت لري؛ د جهاد سامان او لوازم دې تياروي، د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په مبارك عهد كې د آسونو سورلى، توره وهل، غشي ويشتل او نور جنګي مشقونه د جهاد له لوازمو څخه وو.

نن توپك، مشين ټوپك، توپ، ټينګ، راكټ، زره پوښ او نورې ارابې، الوتكې، جنګي انګوټ، كروزر، تحت البحري، اوبتل او نور جنګي مهمات او لوازم، تجهيزات تياروول او لرل، او په استعمال اچول اوچلول، او د حربي او عصري فنونو زده كول بلكه ورزش او د دوى په شان نور عمليات كول، د جهاد سامان او لوازم دي.

همداسې هغه نورې وسلې او د حرب او ضرب ټوكر آلات او اسباب چې وروسته له دې نه ايجاد او اختراع كيږي؛ غه ټول د دې آيت په منشأ كې داخل دي.

باقي د آسونو په نسبت خو رسول الله مبارك پخپله فرمايلي دي: «الخيل معقودٌ في نواصيها الخير إلى يوم القيامة»، «د آسونو په تندي كې خير اينبود شوى دى تر قيامته پورې»، په احاديثو كې راغلي دي، چې هر هغه چې آس د جهاد په نيت روزي او ساتي يې؛ د ده په خوړلو، او څښلو بلكه په هر قدم پورته كولو باندې اجر وررسيږي، او د ده تر خوړو او نورو پورې به هم د قيامت په ورځ په تله (ميزان) كې تللى كيږي».

يعنې دغه ټوكر (ټول) سامان، لوازم، تجهيزات او تيارى پر دښمنانو باندې د وېرې، خوف او دهشت اچولو لپاره يو ظاهري سبب دى، باقي د فتحې او ظفر او برې اصلي سبب خو د الله تعالى مرسته ده، چې د هغې بيان پخوا له دى نه شوى دى، او هغه خلق چې تاسې يې بالتعيين نه پېژنئ؛ منافقان دي چې د مسلمانى په جامه كې يې ځانونه پټ كړي وو، يا د (بني قريظه) يهودان يا د روم او فارس يا نور هغه اقوام دي، چې له هغو سره وروسته له دې نه ستاسې مقابله واقع كېدونكې ده.

﴿وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ﴾ الآية - دغه د مالي جهاد په طرف اشاره ده، يعنې د جهاد په تياري كې هغومره مال چې تاسې لګوئ؛ د هغه پوره بدل او معاوضه به ومومئ، د يوه درهم په مقابل كې اوه سوه درهم، ﴿وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَن يَشَاءُ﴾ د بر ځلې په دنيا كې هم د هغه معاوضه بلكه له هغه څخه لا زيات اجر هم در كول كيږي.

وَإِن جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٦١﴾

او كه ميلان وكړي كفار صلحې (روغې) ته؛ نو ته هم ميلان وكړه دې (صلحې) ته، او توكل (اعتماد) وكړه په الله (او مه ويرېږه له مكره د دوى)، بېشكه چې دغه (الله) هم دى ښه اورېدونكى (د ټولو اقوالو) ښه عالم (دانا پر ټوكردو احوالو).

تفسير: له جهاد څخه وينې تويول نه، بلكه د كلمة الله اعلاء او د فتنې دفع مقصود دى، كه دغه عالي مقصد بې د وينې له تويولو څخه حاصل شي، نو خامخا د وينو تويولو لپاره هيڅ حاجت نه پاتې كيږي، كه داسې كوم احتمال وي، چې شايد كفار د صلحې په پرده كې غواړي چې مونږ تېر باسي؛ نو هيڅ پروا مه كوئ، او پر الله تعالى باندې توكل او اعتماد وكړئ، پاك الله د دوى له نياتو څخه ښه خبردار دى، او د دوى پټې مشورې اوري، د الله تعالى دحمايت په مقابل كې د هيڅا بدنيتي چلېدى نشي، تاسې خپل نيت صاف وساتئ !.

وَإِن يُرِيدُوا أَن يَخْدَعُوكَ فَإِنَّ حَسْبَكَ اللَّهُ ۚ هُوَ الَّذِي أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِ وَبِالْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٢﴾

او كه اراده وكړي دوى دغه چې فريب دركړي تاته (په دغه روغه كې)؛ نو بېشكه كافي دى تا ته الله، هم دى هغه ذات دى چې قوت يې دركړى دى تاته په مرستې (مدد) خپلې سره (په لېږلو د پرښتو په بدر كې) او په مؤمنانو سره.

تفسير: كه وروسته له روغې څخه دغه خلق د خيانت او د عهد د ماتولو اراده وکړي، نو تاسې مه خواشيني (خفه) کېږئ، د الله تعالى مرسته (مدد) تاسې ته کافي ده، د دوى هغه ګرد مکرونه او فرېبونه به الله جل جلاله شنه کړي، همغه الله جل جلاله تاته په «بدر» کې غيبي امداد درکړ، او په ظاهري ډول سره يې د ځان جاروونکو او سرښندونکو مسلمانانو په مټ ستاسې تاييد وفرمايه.

وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ ۚ لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مَّا أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٣﴾

او الفت محبت يې واچاوه په منځ د زړونو د دغو (مؤمنانو) کې ! که لګولى وى تا هر هغه څه چې په ځمکه کې دي ټول؛ نو نه به دې شو اچولى الفت محبت په منځ د زړونو د دوى کې، وليکن الله الفت محبت واچولو په منځ د (زړونو د) دوى کې، بېشکه چې دغه (الله) ښه غالب (قوي د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا دى (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: له اسلام څخه پخوا په عربو کې د جدال، قتال، نفاق او شقاق بازار تود وو، په خوشې چټي (بېکاره) خبرو باندې د قبائلو په منځ کې تصادمات او جنګونه کېدل، کله چې به د دوه ډلو په منځ کې جنګ شروع کېدو، نو تر څو پېړيو پورې به د هغه اور نه مړ کېده.

د مدينې منورې د دوو زبردستو قبيلو (اوس) او (خزرج) د ګوندي جنګونو او د پخواني عداوت او بغض سلسله هيڅکله سر ته نه رسېده، يو به د بل وينو ته تږى وو، او هر يوه به د خپل عزت او پت وږى وو، په دغو حالاتو کې ځمونږ پاک رسول محمد صلى الله عليه وسلم د توحيد او معرفت او اتحاد او اخوت عالم شمول پيغام سره مبعوث شو، الله تعالى د حقيقي وروڼو څخه زيات د يو مينه او الفت د بل په زړه کې واچاوه، او بيا د دغو ګردو (ټولو) الفتونو اجتماعي مرکز د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات يې وګرځاوه، د دوى زړونه داسې يو وار سره اړول د الله تعالى د قدرت او قوت يوه کرشمه وه، او د شديد ضرورت په داسې يوه وقت کې، دوى ګرد (ټول) د محبت او الفت په يوې نقطې کې سره ټولول؛ د ده د کامله حکمت دليل دى.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللَّهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٤﴾

اى نبي ! کافي (بس) دى تاته الله او هغه چاته چې متابعت کوي ستا له مؤمنانو څخه.

تفسير: د دې آيت مطلب دا دى چې: «اى نبي صلى الله عليه وسلم ! الله تعالى تاته او ستا ملګرو ته کافي دى»، يعنې د عدد او د سړيو او مال او تجهيزاتو له قلّت څخه وېره نه ده پکار.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ ۚ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ ۚ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ يَغْلِبُوا أَلْفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿٦٥﴾

اى نبي ! تېز کړه (او ترغيب ورکړه) مؤمنانو ته پر جنګ (د کفارو)، که وو له تاسې څنې شل تنه صابران (ثابت قدمان)؛ نو غلبه دې وکړي پر دوو سوو کافرانو (يعنې داسې جنګ دې وکړي چې نتيجه يې فتح او غلبه کېدى شي)، او که وو له تاسې څنې سل تنه (صابران ثابت قدمان)؛ نو غالب دې شي پر زرو تنو له هغو کسانو چې کافران شوي دي په سبب د دې چې بېشکه دوى (داسې) قوم دى چې نه پوهيږي (يعنې جاهلان دي په الله او قيامت).

تفسير: الله تعالى په دغه آيت سره مسلمانانو ته د جهاد په لوري ترغيب ورکوي، چې که لږ يئ هم مه بې زړه کېږئ ! د الله تعالى په فضل او مرحمت سره تاسې پر لس چندو دښمنانو باندې هم غالبېدئ شئ، سبب يې دا دی چې مسلمانان د الله تعالى لپاره جنګيږي، او دوی الله تعالى پېژني او يقين پرې لري، او د ده د مرضی متابعت کوي، نو ځکه په ډېر زړورتوب اومېړانې (بهادرۍ) سره جنګيږي، هر کله چې کافران پر دغه حقيقت نه دي معتقد، نو ځکه تش د حقيرو او فاني اغراضو لپاره د حيواناتو په شان جنګيږي، او د دغه قلبي قوت او غيبي امداد څخه محروم پاتې کيږي، بناء عليه د خبر او زيرې په ډول حکم راکړی شوی دی؛ چې مؤمنانو ته ښايي، چې د لس چندو دښمنانو په مقابل کې په ډېر صبر او استقامت سره وجنګيږي، که مسلمانان شل تنه وي، ښايي چې د دوو سوو کفارو له مقابلې څخه مخ ونه ګرځوي، که سل تنه وي، نو زرو تنو ته دې خپلی شاوې ونه ګرځوي.

اَلْـٰٔنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا ؕ فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ ۚ وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ اَلْفٌ يَّغْلِبُوْٓا اَلْفَيْنِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ۝٦٦

اوس آسانتيا وکړه الله په تاسې (او تېر شو له سختۍ) او معلومه يې کړه چې ښکته په تاسې کې سستي ده، نو که وو له تاسې څنې سل تنه صابران (ثابت قدمان)؛ نو غالب دې شي پر دوو سوو (کافرانو يعنې داسې جنګ دې وکړي چې نتيجه يې فتح او غلبه کېدی شي)، او که وو له تاسې څنې زر تنه غالب دې شي په دوو زرو (کفارو) په حکم د الله سره، او الله ملګری دی له صابرانو (ثابت قدمانو سره په نصرت، حفاظت او اثابت).

تفسير: په بخاري شريف کې له ابن عباس رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی، «په دغه تېر آيت کې چې مسلمانانو ته د لس چندو کفارو په مقابل کې د ثابت قدمۍ امر ورکړی شوی وو، هر کله چې پر خلقو دغه حکم دروند شو، نو وروسته له هغه دغه بل آيت نازل شو: ﴿اَلْـٰٔنَ خَفَّفَ اللّٰهُ﴾ الآية - يعنې الله تعالى ستاسې د کمزورۍ او سستۍ له معلومولو څخه وروسته هغه حکم لرې کړ، اوس يواځې د خپل دوچند تعداد په مقابل کې ثابت قدم اوسېدل ضروري، او تېرې تښتېدل حرام دي.

همدغه حکم تر اوسه باقي دی، ليکن که له دوو څنې پر زياتو حمله وکړي؛ لوی اجر لري، د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم په وخت کې يو زر تنه مسلمانان له اتيا زرو سره جنګيدلي دي، د «مؤته» په غزا کې درې زره مسلمانان د دوو لکو کفارو په مقابل کې ټينګ ولاړ وو، له داسې واقعاتو څخه لله الحمد اسلامي تاريخ ډک دی.

مَا كَانَ لِنَبِيٍّ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗٓ اَسْرٰى حَتّٰى يُثْخِنَ فِى الْاَرْضِ ؕ تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا ۖ وَاللّٰهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝٦٧

نه ښايي نبي لره دا چې وي ده لره بنديان (چې ترې فديه واخلي) تر هغه وخته چې قوي شي په ځمکه کې (د کفارو د ډېر قتل او جرحې په سبب)، اراده کوئ تاسې (ای مؤمنانو) اسباب د دنيا (په اخيستلو د فديې سره) او الله اراده لري (تاسې لره ثواب) د آخرت (د کفارو د قتل په سبب)، او الله ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا دی، چې هر کار په تدبير اومصلحت سره کوي.

تفسير: د بدر په غزا کې اويا تنه کافران د مسلمانانو په لاس بنديان شول، د الله تعالى له لوري د دوی په نسبت دوه صورتونه د مسلمانانو په مخکې وړاندې شول، (١): وژل، (٢) ترې فديه اخيستل، او خوشې کول، په هر حال رسول الله مبارک په دغې معاملې کې له اصحابو څنې رايه وغوښته.

ابو بکر صدیق رضي الله تعالی عنه وویل: «یا رسول الله ! دغه ګرد (ټول) بندیان مو خپلوان او ورونه دي، بهتره دا ده چې له هغو څخه فدیه واخلو، او خوشې یې کړو، چې ببرته لاړ شي، د دغه نرم سلوک او احسان څخه وروسته ممکن دي، چې څه خلق له دوی ځنې مسلمانان او هغوی له خپلو اولادونو او اتباعو سره ځمونږ لاس او مټ وګرځي، او هغه مال چې د دوی له لوري بالفعل ځمونږ په لاس راشي، په هغه به مونږ جهاد او نور ديني کارونه او لازمې چارې په مخ بوځو.

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم میلان هم د فطرې زړه سوی، شفقت، او «صلة الرحم» په بناء د همدې رایې په لوري وو، بلکه د اصحابو کرامو عمومي رایه هم په همدې جانب وه، زیاتره اصحاب د ابو بکر الصدیق رضي الله عنه له دې بیان سره متفق وو.

عمر او سعد بن معاذ رضي الله عنهما له دغو آراوو سره اختلاف وکړ، عمر رضي الله تعالی عنه وویل: «یا رسول الله ! دغه بندیان د کافرانو امامان او د مشرکینو مشران او لویان دي، دوی ټول دې ووژل شي، نو د کفر او شرک سر به مات شي، او پر ګردو (ټولو) مشرکانو به هیبت ولویږي، او وروسته له دې نه به د مسلمانانو د ربړولو (تکلیفولو) او د الله تعالی له لارې ځنې د خلقو ګرځولو جرأت په دوی کې پاتې نشي، او د الله تعالی په دربار کې به له مشرکانو سره ځمونږ انتهایي نفرت، بغض، او کامله بېزاري ښکاره شي، چې مونږ د الله تعالی په لاره او د حق په معامله کې د خپلو دخپلوی او قرابت او د مالي فوائدو او د هیڅ شیز هیڅ پروا هم ونه کړه، نو ځکه مناسب ده، چې په دغو بندیانو کې هر هغه چې له مونږ ځنې د کوم یوه عزیز او قریب وي؛ هغه دې همغه خپل قریب محبوس په خپل لاس ووژني».

لنډا دا چې له بحث او غور نه وروسته د ابو بکر الصدیق رضي الله عنه پر مشورې باندې عمل وشو، ځکه چې د آراوو کثرت د هغه د رایې په لوري وو، او پخپله رسول کریم صلی الله علیه وسلم هم د خپل طبیعي رأفت او رحمت په بناء د ابو بکر الصدیق رضي الله تعالی عنه د خبرې لوري ته مائل وو، خو دغه رایه د الله تعالی په دربار کې غوره نه شوه په ﴿مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ﴾ کې د دې نه غوروالي په لوري اشاره ده، نو ځکه په دغو آیتونو کې سخته عتاب آمیزه لهجه اختیار کړی شوې ده.

لَّوْلَا كِتَابٌ مِّنَ اللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٦٨﴾

که نه وی ازلي حکم له جانبه د الله چې ړومبی لیکل شوی دی (په لوح محفوظ کې) نو خامخا رسېدلی به وو تاسې ته په عوض د) هغې (فدیې) کې چې اخیستې ده تاسې؛ عذاب ډېر لوی.

تفسیر: یعنې دغه غلطي په خپل ذات کې داسې وه؛ چې هغوی دنیوي مال او متاع په نظر کې نیولی وو داسې مشوره یې ورکړې وه، نو لازمه وه چې سخته سزا ورکړی شوي وی، خو لومړی د سزا مانع هغه دی چې پاک الله جل جلاله بیان کړی دی، او دغه لاندني شیان هم کېدی شي، چې د سزا مانع وګرځي:

(۱): په مجتهد باندې به په داقسم اجتهادي غلطی او خطا کې څه عذاب نه وي.

(۲): تر هغه پورې چې الله تعالی په کوم شي باندې ښکاره امر او یا له هغه شي څخه ښکاره منع ونه کړي؛ د هغه مرتکب به نه عذابوي.

(۳): د أهل البدر ګردې خطاوې یې ورمعافې کړي دي.

(۴): کومه رویه چې په غلطی سره پخوا له وخته اختیار کړی شوې ده؛ یعنې په فدیه سره د بندیانو خوشې کول د الله تعالی په علم کې فیصله شوې وه، چې وروسته له هغه به د دې اجازه ورکوي: ﴿فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً﴾ (۲۶ جزء د محمد صلی الله علیه وسلم سورت اوله رکوع (۴) آیت).

(۵): دغه هم فیصله شوې وه، تر هغه پورې چې رسول علیه السلام په دې کې موجود وي، یا خلق د زړه له صدقه استغفار وایي؛ نو عذاب به پرې نه راځي.

(۶): له دغو بندیانو ځنې د ډېرو په قسمت کې مسلمانېدل لیکل شوي وو، الغرض که داسې موانع نه وی؛ نو دغه غلطي دومره لویه او سخته وه، چې ښایي پرې ډېر سخت عذاب نازل شوی وی.

فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَٰلًا طَيِّبًا ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٩﴾

نو خورئ تاسې له هغه ماله چې غنیمت اخیستی دی تاسې حلال طیب (پاکیزه)، او وویرېږئ له الله، بېشکه الله بخښونکی د (خطیّاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسیر: له ړومبني عتاب او تهدید څخه مسلمانان دومره وویرېدل چې ویې ویل: «ښایي د غنیمت په اموالو کې چې د بندیانو فدیه هم په کې شامله ده؛ لاس ونه وهل شي»، نو په دغه آیت کې یې تسلي وفرمایله، چې هغه د پاک الله عطا ده، په خوښۍ سره یې وخورئ، هو ! په جهاد کې غنیمت او نورو شیانو ته دومره اهمیت ورکول یا یې دومره په نظر کې نیول نه دي پکار؛ چې له عالي مقاصدو او کلي مصالحو څخه سترګې پټې شي، بېشکه دمؤقتي حالاتو او مصالحو په اعتبار له تاسې ځنې یوه غلطي وشوه، مګر پخپله په مال کې څه خبیث او پلیتي نشته، نو د الله تعالی څخه وویرېږئ، او له مخالفت نه یې ځانونه وژغورئ، هغه به په خپل مرحمت سره ستاسې غلطی درمعافوي.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّمَن فِي أَيْدِيكُم مِّنَ الْأَسْرَىٰ إِن يَعْلَمِ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِّمَّا أُخِذَ مِنكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٧٠﴾ وَإِن يُرِيدُوا خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا اللَّهَ مِن قَبْلُ فَأَمْكَنَ مِنْهُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٧١﴾

ای نبي ! ووایه ته هغه چا ته چې په لاسونو ستاسې کې دي له بندیانو (قیدیانو): که معلوم کړي الله په زړونو ستاسې کې کوم خیر (ایمان) نو در به کړي تاسې ته خیر (بهتر، غوره) له هغه (مال) څخه چې اخیستی شوی دی له تاسې نه، او مغفرت به وکړي تاسې ته، او الله ښه بخښونکی (د خطیاتو) ډېر رحم کوونکی دی. او که اراده وکړي دغه (بندیان) د خیانت ستاسې (په ظاهري اسلام سره)؛ نو په تحقیق خیانت کړی وو دوی له الله سره پخوا له دې نه (په کفر او د عهد په ماتولو سره)؛ نو قادر کړې (ته الله) پر دوی (په قتل، حبس او بندي کولو د دوی سره)، او الله ښه عالم دانا (په ټولو احوالو) ښه حکمت والا دی.

تفسیر: او که اراده لري هغه بندیان چې اسلام یې راوړی دی، د دې چې له تا سره خیانت وکړي، او بېرته مرتد شي، یا هغه فدیه درنه کړي؛ چې دوی یې ضامنان شوي دي، پس په تحقیق خیانت کړی وو دوی له الله سره پخوا له دې په کفر سره.

پخوا چې مو له الله تعالی سره کومه ټکي کړې وه، یعنې د ﴿أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ﴾ فطري عهد په خلاف مو کفر او شرک اختیار کړی وو، یا ځینو «بني هاشمو» چې د ابو طالب په حیات کې عهد کړی وو، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حمایت کې به متفق وي، او اوس له کفارو سره ملا ترلي راغلي دي، او د هغه انجام یې په خپلو سترګو سره ولید، چې نن په څه ډول د مسلمانانو په قید او واک کې دي، وروسته له دې نه هم د ټکي همداسې سزا ورکوله کیږي، له الله تعالی څخه خپلې پټې خبرې او نیتونه نشئ پټولئ، او نه د هغه د حکیمانه وو انتظاماتو مخه نیولئ شئ.

شاه صاحب ليکي: «د الله تعالى وعده پوره شوه، له دوى ځنې هغه کسان چې مسلمانان شول؛ الله تعالى هغوى ته بېشماره دولتونه ورعطا کړل، او هغه چې مسلمانان نشول؛ خراب او تباه شول».

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوا وَّنَصَرُوا أُولَٰئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُم مِّن وَلَايَتِهِم مِّن شَيْءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا ۚ وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٧٢﴾

بېشکه هغه کسان چې ایمان يې راوړى دى او هجرت يې کړى او جهاد يې کړى دى په مالونو خپلو سره، او په نفسونو خپلو سره په لاره د الله کې (د دين د ترقى لپاره)؛ او هغه کسان چې ځاى يې ورکړى دى (مهاجرينو ته) او مدد ګاري يې کړې ده (له دوى سره)؛ دغه کسان ځينې د دوى دوستان دي د ځينو نورو (په نصرت او ارث)، او هغه کسان چې ايمان يې راوړى دى، او هجرت يې نه دى کړى؛ نشته تاسې ته له ولايت (نصرت او ارث) د دوى ځنې هيڅ شى، تر هغه پورې چې هجرت وکړي، او که طلب د نصرت (او مرستې ـ مدد) وکړي دغه (غير مهاجر مؤمنان د کفارو په جنګ کې) له تاسې ځنې په دين کې؛ نو لازمه ده په تاسې مرسته (مدد) کول (له دوى سره په دين کې) مګر (نه دى لازم ستاسې نصرت او ورتګ) پر هغه قوم باندې چې په منځ ستاسې او په منځ د دوى کې معاهده وي، او الله په هغه کار چې کوئ (يې) تاسې ښه ليدونکى دى.

تفسير: په دغو بنديانو (قيديانو) کې ځينې داسې کسان هم وو، چې په زړه کې مسلمانان وو، خو له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې هجرت نه ووکړى، او په زور او بې له خپلې خوښې له کفارو سره بدر ته راغلي وو، په دغه آيت کې دا راښوولي شوي دي، چې د داسې مسلمانانو حکم څه دى؟.

شاه صاحب ليکي چې: «د رسول الله صلى الله عليه وآله وصحبه وسلم اصحاب دوه فرقې وې، مهاجرين (کور او کهول پرېښودونکي) او انصار (ځاى ورکوونکي) (مرسته ـ مدد کوونکي)، په دغو دواړو فرقو کې رسول الله مبارک مؤاخات (وروروليي) قائمه کړې وه.

د آيت مضمون داسې شو: «څومره مسلمانان چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره حاضر دي، د دوى ګردو (ټولو) صلحه او جنګ سره يو دى، د يوه موافقت د ګردو (ټولو) موافقت، او د يوه مخالفت د ګردو (ټولو) مخالفت دى.

بلکه د هجرت په ابتداء کې د مؤاخاتو د سلسلې په لحاظ يوه له بل څخه ميراث هم ووړ، او هغه مسلمان چې په خپل هغه ملک کې اوسيږي، چې هلته د کفارو زور او تسلّط وي، يعنې له دار الحرب يې هجرت نه وي کړى، د هغو په صلحه او جنګ کې د دار الاسلام اوسېدونکي مسلمانان (مهاجرين او انصار) نه شريک کيږي، که د دار الحرب مسلمانان صلحه يا معاهده د کفارو له کوم جماعت سره وکړي، نو د دار الاسلام حر او آزاد مسلمانان د هغې معاهدې تعميل نشي کولى، بلکه له هغوى سره د مصلحت له مخې لا جنګ هم کولى شي.

هو ! دغه ضروري ده، که د دار الحرب مسلمانان په ديني معاملاتو کې له آزادو مسلمانانو څخه مرسته (مدد) وغواړي؛ نو له دوى سره حسب المقدور مرسته (مدد) کول پکار دي، مګر له هغه جماعت سره چې د دغو آزادو مسلمانانو معاهده شوې ده؛ د هغو په مقابل کې د معاهدې تر ادامې پورې د دار الحرب له مسلمانانو سره امداد نشي

کولی، او هم پخپلو منځونو کې میراث په هغه سلسله کې چې مهاجرینو او انصارو سره قائمه کړې وه؛ د دار الحرب مسلمانان نه وو شامل.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ ﴿٧٣﴾

او هغه کسان چې کافران شوي دي؛ ځینې د دوی دوستان دي د ځینو نورو (په امداد کې له یو له بله سره)، که ونه وکړئ تاسې دا (دوستي په خپلو منځونو او دښمني له کفارو سره) نو پیدا به شي (لویه) فتنه په ځمکه کې او (خور به شي) فساد.

تفسیر: یعنې د کافر او مسلمان تر منځ حقیقي دوستي او رفاقت نشته، او نه هم یو د بل وارث کېدی شي، هو ! کافر دبل کافر رفیق او وارث کېدی شي، د دوی په مقابل کې یو مسلمان د بل مسلمان دوست، او رفیق دی، او یو له بل څخه میراث وړلی شي، نو مسلمانان باید خپلې دوستی او رفاقتونه مؤمنانو پورې ځانګړې کړي، او له کفارو دې خپلې دوستی وشکوي، او ترې جدا دې شي، او که داسې ونشي نو د مسلمانانو تر منځ به فتنه واقع شي، او ډېر لوی فساد به خور شي، په ټولنه کې به ګډوډي جوړه شي، او د مسلمان او کافر تر منځ به فرق نه کیږي، د مسلمانانو تر منځ یو پر بل حقوق به ضایع شي، او له کافر څخه نفرت به له زړونو ووځي.

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوا وَّنَصَرُوا أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا ۖ لَّهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٧٤﴾

او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او هجرت یې کړی دی او جهاد یې کړی دی په لاره د الله کې، او هغه کسان چې ځای یې ورکړی دی (مهاجرینو ته) او مدد ګاري یې کړې ده (له رسول الله او مهاجرینو سره) دغه موصوف په دغو صفاتو سره هم دوی دي مؤمنان په حقه (رښتیا) سره، دوی لره دی مغفرت (بخښنه) او رزق (روزي) نېکه (د عزت چې جنت دی).

وَالَّذِينَ آمَنُوا مِن بَعْدُ وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا مَعَكُمْ فَأُولَٰئِكَ مِنكُمْ ۚ وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٧٥﴾

او هغه کسان چې ایمان یې راوړ وروسته (له دغه لومړني هجرت څخه) او هجرت یې وکړ او جهاد یې وکړ په ملګریتوب ستاسې؛ نو دغه (ستایل شوي په دغو صفاتو) له تاسې څخه دي، او خاوندان د خپلوی ځینې د دوی غوره دي (د میراث په وړلو سره) په ځینو نورو په حکم د الله کې، بېشکه الله پر هر شي باندې ښه عالم دی (او همده ته معلوم دي چې د هر یوه څومره حق دی؛ نو د الله هر حکم پر علم او حکمت بنا دی).

تفسیر: یعنې که څوک په مؤمنانو او مهاجرینو کې وروسته هم شاملیږي، او هغه واجبات چې پخوانې مؤمنان یې اداء کوي، دوی یې هم اداء کوي؛ نو د دوی ایمان او هجرت او نور صالح اعمال قبول دي، د مؤمنانو وروڼه دي، او د هغوی د دوستی، رفاقت او مرستې مستحق دي، لکه چې حدیث شریف کې راغلي دي چې: «المرء مع من أحب» «د هر انسان حشر به د هغه چا سره کیږي، او د هغه چا سره به په آخرت کې هم وي، چې په دنیا کې ورسره مینه او محبت لري»، دا آیت د هغه حکم ناسخ هم دی؛ چې د اخوت او وروروالی له کبله به یې یو له بله سره میراث وړلو.

تمت سورة الأنفال بفضل الله.

سُورَةُ التَّوبَةِ

«د (التوبة) سورت مدني دی، پرته (علاوه) له دوو وروستنيو آيتونو څخه چې «مکي» دي

(۱۲۹) آيتونه او (۱۶) رکوع لري په تلاوت کې (۹) او په نزول کې (۱۱۳) سورت دی، د (المائدة) له سورت څخه وروسته نازل شوی دی».

د (الأنفال) سورت د هجرت په اوائل کې او دا (د التوبة يا د براءة) سورت د هجرت په اواخرو کې نازل شوی دی، د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دا عادت وو؛ چې د هر قرآني آيت په نسبت چې نازلېده داسې به يې فرمايل چې: «دغه آيت دې د هغه سورت په هغه موقع کې کښېنود شي !»، د دغو آيتونو په نسبت چې اوس د «التوبة» سورت يا د «براءة» سورت ورته ويلی شي، رسول الله مبارک څه تصريح ونه فرمايله، چې په کوم سورت کې دې درج شي، له دې نه ظاهريږي چې دغه مستقل سورت دی، او د بل کوم سورت جزء نه دی.

لېکن عمومي قاعده داسې وه، کله چې به کوم نوی سورت نازلېده، نو له پخواني سورت څخه د جلا (جدا) کېدلو لپاره ﴿بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾ به هم راتله، د «التوبة» د سورت په شروع کې ﴿بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾ رانغله، څو مشعر وي چې دغه ببل سورت نه دی نظر په دغو وجوهو په عثماني مصاحفو کې د دغه سورت په شروع کې ﴿بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾ نه ده لېکلې شوې.

ليکن په کتابت کې د ده او د «انفال» په منځ کې فصل کړی شوی دی، چې نه په پوره ډول سره د هغه استقلال ښکاره شي، او نه يې له بل سورت جزويت ثابت وي، باقي له «انفال» سره د ده د اتصال وجه دا ده: چې «انفال» په نزول کې مقدّم دی، نو بې له کومې خاصې وجې څخه ولې مؤخر کړی شي، او د دغو دواړو مضامين يو له بل سره دومره ارتباط او ورته والی لري؛ چې ګواکې «براءة» ته د «انفال» تتمّه او تکمله ويلی شي.

د «انفال» سورت زياتره د «بدر» په غزا او د هغه په متعلقاتو مشتمل دی، «يوم البدر» ته قرآن (يوم الفرقان) ويلي دي؛ ځکه چې هغه د حق او باطل، د اسلام او کفر، د موحدينو او مشرکينو وضعيت بيخي سره ببل او جدا (جلا) کړ، د بدر غزا في الحقيقت د اسلام د عالم نيوونکې او ټينګې ورورۍ د تعمير د تاداو (بنياد) او د هغه د اساس تيږه ده، او د اسلام د حکومت د تأسيس مقدمه ده.

د «انفال» د سورت په آخر کې د ﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ﴾ په مقابل کې د خالص اخوت د تحکيم په منظور ﴿إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُن فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ﴾ راغلی دی، د هغه ښکاره اقتضاء دا ده، چې په حسي ډول سره هم د دغې اسلامي ورورۍ د ټينګولو لپاره يو قوي مرکز وټاکل (مقرر) شي.

او دا هم معلومه ده، چې دغه مرکز له «جزيرة العرب» څخه پرته چې مکه معظمه يې زړه دی؛ بل ځای نشي کېدی.

د «انفال» په آخر کې دا هم څرګنده شوې وه، هغه مسلمانان چې له مکّې معظمې او نورو ځايونو ځنې يې هجرت نه دی کړی، او د کفارو تر سيوريو لاندې ژوندون تېروي؛ د دار الاسلام آزاد او خپلواک مسلمانانو باندې د هغوی د ولايت او رفاقت هيڅ يوه ذمه واري نشته: ﴿مَا لَكُم مِّن وَلَايَتِهِم مِّن شَيْءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا﴾ هو ! د توان په اندازه له دوی سره مرسته په کار ده.

له دې نه دغه نتيجه ووته، چې د اسلام په مرکز کې د اسلامي موالاتو او اخوّت د کړيو د کلک ارتباط لپاره له دوو خبرو ځنې يوه خبره ضروري ده، يا د عربو ګرد مسلمانان دې خپل وطنونه پرېږدي، او مدينې منورې ته دې راشي، او په اسلامي اخوت کې دې بې له کوم ممانعته شامل شي، يا دې آزاد او خپلواک مسلمانان د خپلو مجاهدينو او سر جارولو په وسيله د کفر قوت مات کړي، او د «جزيرة العرب» سطحه دې داسې پاکه او صافه او هواره کړي؛ چې هيڅ يوه مسلمان ته د هجرت کولو ضرورت پاتې نشي.

يعنې تقريبا ګرده «جزيرة العرب» دې د خالص اسلامي اخوت داسې قوي مرکز او غير مخلوط مستقر وګرځي؛ چې نور اديان په کې نه وي، او د هغه تر حمايت لاندې د اسلامي اخوت د ډېر ټينګ او شانداره مستقبل هيله او اميد وکړی شي، دغه دوهم صورت همداسې يوه وسيله ده، چې په هغې سره ورځ په ورځ د فتنې او فساد بيخونه ايستل کېدل.

د دغه اعلی او پاک مقصد لپاره مسلمانانو د هجرت په دویم کال کې اول قدم د «بدر» د میدان په لوري واخیست، چې بالآخره د هجرت په اتم کال کې د مکې معظمې لویې فتحې ته منتهي شو، هغه فتنې چې د اسلام په خپراوي یا حفاظت کې مزاحمې کېدې؛ د مکې فتحې له مینځه یوړې.

د «براءة» د سورت دمضامینو حاصل همدا دی، چې په څو ورځو کې د الله تعالی د رحمت او عظمت او د مسلمانانو د صداقت په قوت دغه د اسلام مرکز له هر ډول دسیسو، کفر، شرک او نورو څخه پاک شو، او ګرد (ټول) عرب لکه یو تن سره متحد شول، او په ګرد عالم کې د هدایت رڼا او د عالم نیوونکي اسلامي اخوت د انتشار کفیل او ضامن وګرځېد، فلله الحمد علی ذلک.

الغرض د «أنفال» په سورت کې د هغه شي ابتداء چې شوې ده؛ د «التوبة» یا «براءة» په سورت کې هغه انتهاء ده، نو د دې اول او آخر تناسب په لحاظ «براءة» د «أنفال» د تکملې په شان ملحق کړی شوی دی، په دغه سورت کې د تسمیې د نه لیکلو یوه وجه دا هم لیکلې شوې ده؛ چې تسمیه لپاره د امان ده، او دغه سورت د هجرت په نهم کال په هغه وخت کې چې د عربو ځینو اقوامو له مسلمانانو سره خپلې معاهدې ماتې کړې وې، د امان له منځه وړلو لپاره راغلی دی، او له همدې امله ده ته «مُخزِية، مشرّدة، منكلة، او فاضحة» هم ویلی شي، د دې سورت په نسبت مفسرینو نور مناسبات هم لیکلي دي، (على الأكثر قاریان د دغه سورت ابتداء داسې پیلوي):

بَرَآءَةٌ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى الَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١﴾ فَسِيحُوا۟ فِى الْأَرْضِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى اللَّهِ ۙ وَأَنَّ اللَّهَ مُخْزِى الْكَٰفِرِينَ ﴿٢﴾

(دا) بیزاري (یا صاف ځواب) دی له (طرفه د) الله او (له طرفه) د رسول د الله هغو کسانو ته چې عهد ورسره کړی دی تاسې له مشرکانو. نو ګرځئ تاسې په (دغه) ځمکه کې څلور میاشتې، او پوه شئ (ای مشرکانو په دې !) چې بېشکه تاسې نه یئ عاجز کوونکي د الله (د عذاب خپل چې شوکت مهلت یې درکړ) او (پوه شئ په دې چې) بېشکه الله رسوا کوونکی د کافرانو دی.

تفسیر: د هجرت په شپږم کال کې د حُدیبیې په مقام کې کومه معاهده چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم او د قُریشو په منځ کې وشوه؛ نو بني خزاعه د مسلمانانو او بني بکر د قریشو په حلیفانو کې شامل شول، بني بکرو د معاهدې څه پروا ونه کړه، او پر بني خزاعه وو یې حمله وکړه، او قریشو په وسلو او نورو شیانو له دوی سره کومک وکړ، او د دې له امله قریش او د دوی حلیف دواړه د حدیبیې پر معاهده قائم پاتې نشول، چې د هغه په مقابل کې د هجرت په اتم کال نبي کریم صلی الله علیه وسلم پر مکې معظمې باندې حمله وکړه، او هغه یې په آسانۍ سره فتح کړه.

له دغو قبائلو څخه پرته له نورو قبائلو سره هم د مسلمانانو میعادي معاهدې او غیر میعادي معاهدې وې، چې له هغوی څخه ځینې په خپلو معاهدو ولاړ وو، ډېر قبائل داسې هم وو، چې له هغوی سره هیڅ قسم معاهده نه وه شوې، د دغه سورت مختلف آیتونه د مختلفو قبائلو په نسبت نازل شوي دي.

په لومړنیو آیتونو کې غالبا د هغو مشرکینو ذکر دی؛ چې له هغو سره خو معاهده شوې وه مګر غیر میعادي، دوی ته خبر ورکړ شو، چې مونږ وروسته له دې نه له تاسې سره معاهدې ته دوام نه ورکوو، او ماتوو یې، او تاسې ته څلور میاشتې مهلت درکوو، چې په دغه موده کې به یا په اسلامي أخوت کې داخلېږئ، یا به دغه وطن پرېږدئ، او د ایمان او توحید له مرکز څخه به وځئ، یا به د جنګ لپاره تیارېږئ؟ لیکن نبه وپوهېږئ چې تاسې د الله مشیئت او اراده له سره نشئ منع کولئ، که تاسې اسلام رانه وړئ؛ نو الله تعالی به مو په دنیا او آخرت کې رسوا کړي، او تاسې په خپلو تدابیرو او حیلو او پلمو سره هغه نشئ عاجزولی.

باقي هغه قبائل چې معاهده ورسره نه وه شوې، ممکن ده چې هغوی ته هم د څلورو میاشتو مهلت ورکړی شوی وي، دغه ابلاغ او همدارنګه د راتلونکو آیتونو عمومي اعلان د هجرت په نهم کال د حج په موقع د ګردو (ټولو) قبائلو په منځ کې علي رضي الله عنه وکړ، چې په دې وخت کې ابو بکر الصدیق رضي الله تعالی عنه امیرُ الحُجّاج وو.

وَأَذَانٌ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ أَنَّ اللَّهَ بَرِيءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ۙ وَرَسُولُهُ ۚ فَإِن تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ ۗ وَبَشِّرِ الَّذِينَ كَفَرُوا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣﴾

او خبرول (اورول) دي له (طرفه د) الله او رسول د دغه (الله) ټولو خلقو ته په ورځ د حج لوی کې په دې چې الله بېزاره دی له مشرکانو (او د دوی له عهد)، او رسول د دغه (الله هم بېزاره دی)؛ نو که توبه وویسته تاسې له (شرکه او غدره)؛ نو دا خیر (بهتره غوره) دی تاسې ته (له شرکه او غدره)، او که مخ واړاوه تاسې (له توبې په شرک مو دوام وکړ)؛ نو پوه شئ (ای مشرکانو !) بېشکه تاسې نه یئ عاجز کوونکي د الله، او زېرې ورکړه هغو کسانو ته چې کافران شوي دي په عذاب دردناک (د آخرت) سره.

تفسیر: (حج اکبر) یې ځکه وفرمایه چې (حج اصغر) عمره ده، او له (یوم الحجّ الأکبر) څخه د «ذي الحجة الحرام» لسمه د لوی اختر یا نهم تاریخ د عرفې ورځ مراد ده.

دغه اعلان غالبا د هغو قبائلو په حق کې دی، چې هغوی میعادي معاهده کړې وه، بیا یې په خپله ماته کړه (لکه بني بکرو یا قریشو او نورو)، یعنې له داسې خلقو سره اوس هیڅ قسم معاهده نه ده پاتې، خو که بیا هم دغه خلق له شرک او کُفر څخه توبه وباسي؛ نو د دوی دنیا او آخرت دواړه ښه کیږي، که نه د الله تعالی هغه اراده چې کړې یې ده (د جزیرة العرب تطهیر) هغه ضرور پوره کېدونکې ده، هیڅ یو طاقت او تدبیر هغه نشي مغلوبولی، او کفارو ته د دوی دکفر او بد عهدۍ سزا هرومرو رسیږي.

تنبیه: که څه هم د مکې معظمې له فتحې څخه پخوا یعنې د هجرت له اتم کال نه مخکې د دغو قبائلو له خوا عهد مات شوی وو، چې د هغه په سزا کې مکه معظمه فتح شوه، خو بیا هم د عهد ماتولو عمومي اعلان د هجرت په نهم کال د حجّ په موقع کې وکړ شو، څو دغه خبره لا څرګنده او واضحه شي، چې له دغسې خلقو سره هیڅ قسم معاهده باقي نه ده پاتې.

إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ شَيْئًا وَلَمْ يُظَاهِرُوا عَلَيْكُمْ أَحَدًا فَأَتِمُّوا إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَىٰ مُدَّتِهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ﴿٤﴾

مګر هغه کسان چې عهد کړی دی تاسې (ای مسلمانانو له دوی سره) له مشرکانو، بیا یې نقصان نه دی کړی له تاسې سره هیڅ شی (د وعدې په شرطونو کې)، او نه یې مرسته (مدد) کړی دی ستاسې په مقابل کې له هیڅا سره (ستاسې له دښمنانو څنې)؛ نو پوره کړئ (ای مؤمنانو) له دغو مشرکانو سره عهد د دوی تر (تمامېدلو د مقرر) وعدې د دوی پورې، بېشکه الله خوښوي ځان ساتونکي (له بېوفایی).

تفسیر: دغه استثناء د هغو قبائلو لپاره ده چې معاهده یې میعادي وه، بیا دوی پرې ټینګ ولاړ وو، او د عهد په ایفاء کې یې هیڅ قصور نه وو کړی، نه دوی په خپله له عهده څخه مخالف کارروایي کوله، او نه یې له نورو بد عهدانو سره څه مرسته (مدد) کوله (لکه بني ضمره او بني مُدلج)، د دوی په نسبت اعلان وکړ شو، چې د معاهدې د میعاد له ختمېدلو څخه وروسته له دوی سره بله کومه معاهده نه ترلې کیږي، او په هغه وخت کې له دوی سره هم همغه لاره ده، چې د نورو لپاره ده.

فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ۚ فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥﴾

نو کله چې تېرې شوې (څلور) میاشتې حرامې؛ نو وژنئ (ای مؤمنانو عهد ماتوونکي) مشرکان په هر ځای کې چې وموندل تاسې دوی، او نیسئ (بندیان ـ قیدیان کړئ) دوی، او حصار کړئ دوی (په کلاګانو کې)، او کښئ دوی ته (منتظر) په هر ځای د څارلو او تېرېدلو کې، نو که توبه وویسته دوی (له کفره) او قائم کړ دوی (سم اداء کړ سره له ټولو حقوقو) لمونځ، او ورکړ دوی زکات؛ نو خوشې کړئ تاسې لاره د دوی (او څه مه ورته وایئ)، بېشکه الله ښه بخښونکی (د خطیّاتو) ډېر مهربان دی.

تفسیر: یعنې که څه هم له دغو عهد ماتوونکو سره اوس هیڅ قسم معامله نه ده پاتې، او له هغوی سره سمدلاسه جنګ کېدی شي، خو بیا د «أشهر الحرم» رعایت یا د دې له امله پر دوی باندې له فوري حملې څخه مانع وو؛ چې تر هغه وخت پورې په (أشهر الحرم) کې په جنګ باندې لومړی شروع ممنوع وه، یا مصلحت دا وو چې د یوې وړوکې خبرې له امله د عامو خلقو په منځ کې ولې تشویش پیدا شي؟، ځکه چې په دغو میاشتو کې د قتال حُرمت په دوې کې معروف او مسلّم او له پخوا راهیسې یوه منلې شوې خبره وه، په هر حال د محرّم الحرام تر ختمېدلو پورې هغوی ته مهلت ورکړ شو، چې هر ډول د دوی زړه غواړي؛ همغسې دې خپل ټرون او بندوبست وکړي، وروسته له هغه د «جزیرة العرب» د تطهیر په مقصد له جنګ کولو څخه چاره نشته، نو هغه ګردې معاملې چې په جنګ کې کېدونکي دي (لکه وژل، نیول، چل او پلمې، په مورچلونو (مورچو) او پټونو کې غلیم ته څار کول او نور) کیږي به.

هو ! که دوی ظاهرا له کفر څخه توبه وباسي، او په اسلامي أخوت کې داخل شي، چې د هغه لویه نښه د لمانځه اداء او د زکات ورکړه ده؛ نو بیا به مسلمانان په هغوی باندې هیڅ تعرض او غرض نه کوي، او دوی به له لارې څخه نه ګرځوي، پاتې شوه باطني معامله هغه الله تعالی ته ورسپارلې شوې ده، د مسلمانانو معامله به له هغوی سره د هغوی د ظاهري اعمالو په اساس وي.

له دې آیت ځنې معلومه شوه، که کوم سړی کلمه ووایي، او لمونځ ونه کړي، یا زکات ور نه کړي؛ نو مسلمانان د هغه لاره نیوی شي، د امام احمد، امام شافعي او امام مالک «رحمهم الله» په نزد پر اسلامي حکومت لازم دي: که تارک الصلاة توبه ونه باسي ؛ هغه دې ووژني، د امام احمد په نزد د مرتدوالي له امله او د امام مالک او امام شافعي په نزد حدّاً او تعزیراً، او ځمونږ امام أبو حنیفه «رحمه الله» وایي چې: ښه دې یې ووهي، او بیا دې یې تر هغه پورې په بندیخانه کې بندي وساتي، چې یا له ترک الصلاة څخه توبه وباسي، یا همغلته مړ شي، په هر حال همداسې پرېښودل یې د هیڅا په نزد نشته.

پاتې شول د زکات مانعین؛ د دوی له اموالو ځنې دې حکومت جبراً زکات تحصیل کړي ! که دغه خلق لاس سره یو کړي او د حکومت پر خلاف وجنګیږي؛ نو سمې لارې ته د دوی د راوستلو لپاره دې جنګ هم وکړ شي ! ابوبکر صدیق رضي الله تعالی عنه هغه جهاد چې د زکات له مانعینو سره کړی دی؛ د هغه واقعات د احادیثو او تاریخ په کتابونو کې مشهور او معروف دي.

وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُونَ ﴿٦﴾

او که یو تن له مشرکانو څخه امن (پناه) وغواړي له تا (له قتله)؛ نو پناه ورکړه ته ! هغه ته څو چې واوري دی کلام د الله، بیا ورسوه ته دی ځای د امن (وطن) د ده ته (که ایمان یې رانه ووړ)، دغه

(امان لپاره د اورېدلو د قرآن) په سبب د دې دی چې ښکه دوی (داسې) قوم دی چې نه پوهيږي (پـه قرآن او ايمان باندې).

تفسير: پخوا يې فرمايلي وو چې: که دوی له خپلو کفرياتو ځنې توبه وکړي، او په اسلام کې داخل شي؛ نو په امن کې به شي، ممکن وو چې کوم سړی د اسلام له اصولو او احکامو څخه ښخبره وي، او د تحقيق او د شکونو د لرې کولو لپاره مسلمانانو ته راتلل غواړي؛ نو د هغو په نسبت يې فرمايلي دي چې: ته دغسې کسانو ته پناه ورکړه، او ويې ساته ! او د الله تعالى کلام او د اسلام حقائق او دلائل ور واوروه ! که قبول يې نه کړي مه يې وژنه ! بلکه هغه د خپلې هستوګنې او د امن ځای ته ورسوه، چې هلته مأمون او مطمئن شي، وروسته له هغه دغه هم لکه د نورو ګردو کافرانو په شان دی، دغه د امن ورکولو حکم ځکه ورکړی شوی دی؛ چې له اسلامي اصولو او حقائقو ځنې دغه وګړي نه دي خبر، نو ښايي هغوی ته حق په ډېر واضح او ښه ډول سره ورښکاره شي، که وروسته له هغه دغه مستامنان او پناه غوښتونکي د عناد له لارې وانه وښتل، او همغسې معاند پاتې شول؛ نو د ﴿قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ﴾ څخه وروسته په دين کې څه زور او زياتی او جبر او اکراه نشته، او د امان له رفعې څخه وروسته به له هغوی سره د نورو کفّارو په شان معامله وشي.

كَيْفَ يَكُونُ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ عِندَ اللَّهِ وَعِندَ رَسُولِهِ إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّمْ عِندَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ فَمَا اسْتَقَامُوا لَكُمْ فَاسْتَقِيمُوا لَهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ﴿٧﴾ كَيْفَ وَإِن يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوا فِيكُمْ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً ۚ يُرْضُونَكُم بِأَفْوَاهِهِمْ وَتَأْبَىٰ قُلُوبُهُمْ وَأَكْثَرُهُمْ فَاسِقُونَ ﴿٨﴾

څرنګه به وي مشرکانو ته عهد په نزد د الله او په نزد د رسول د دغه (الله)؟ (يعنې نه به وي) مګر هغه کسان چې عهد کړی دی تاسې (ای مؤمنانو له دوی سره) په نزد د مسجد الحرام (او بيا يې نه دی مات کړی)، نو څو چې برابر ولاړ اوسي دوی تاسې ته (په عهد خپل)؛ نو برابر ولاړ اوسئ تاسې (هم په عهد خپل) له هغوی سره، ښکه چې الله خوښوي ځان ساتونکي (له بېوفايۍ نه). څرنګه (به وي دوی ته عهد او څه اعتبار دی پرې) حال دا چې که لاس بر شي د دوی پر تاسې؛ نه ګوري (لحاظ نه کوي) دوی په باب ستاسې کې (نه) قرابت (يا قسم) ته او نه عهد ته (او هسې برید به درباندې وکړي)، راضي کوي دوی تاسې په (تشو خبرو د) خولو خپلو سره، او منع کوي زړونه د دوی (د وعدې له وفاء)، او زياتره د دوی فاسقان (له فرمان څخه وتونکي) دي.

تفسير: يعنې د عربو له دغو مشرکينو سره څنګه عهد قائم پاتې کېدی شي؟ او وروسته له دې نه څرنګه صلح ورسره کېدی شي؟ چې د هغوی احوال ستاسې مسلمانانو سره داسې دي: که کوم وخت لږ څه فرصت پيدا کړي، او لاس يې پر تاسې باندې بر شي؛ نو په نقصان رسولو کې مطلقا نه د قرابت لحاظ کوي او نه د قول او اقرار، خو څرنګه چې يې په تاسې غلبه او برى نه دی حاصل کړی؛ نو ځکه له تاسې سره تش د ژبې عهد او پيمان کوي، او تاسې خوښوي، که نه دوی په زړونو کې يوه شېبه هم پر دغه عهد باندې راضي نه دي.

په هر حال له داسې ټګانو او بد عهد قوم سره څرنګه د الله تعالى د رسول الله صلى الله عليه وسلم عهد کېدی شي؟ هو ! له هغو قبائلو سره چې تاسې بالخصوص د مسجد الحرام په قرب کې معاهده کړېده؛ نو تاسې ابتداء د هغې په ماتولو کې اقدام مه کوئ، تر هغه پورې چې دوی د وفاداری په لاره باندې سم روان دي، تاسې هم له هغوی سره بالمثل معامله وکړئ، لکه «بني کنانه او بني ضمره» او نور چې له مسلمانانو سره يې بد عهدي نه وه کړې، نو مسلمانانو هم په نهايت ديندارۍ او احتياط سره په خپل عهد وفا وکړه، د «براءة» د اعلان په وخت کې د دوی د معاهدې د نېټې تېرېدو ته لا (٩) مياشتې پاتې وې، خو په دغو نهو مياشتو کې هم دغه معامله محترمه او معموله وه.

اِشْتَرَوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِهٖ ؕ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝٩ لَا يَرْقُبُوْنَ
فِيْ مُؤْمِنٍ اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُعْتَدُوْنَ ۝١٠

پيرودلي (او اخيستي) دي دوی په آيتونو (احکامو) د الله قيمت لږ، نو منع کوي دوی (خلق يا پخپله څنګ کوي) له لارې د الله (يعنې له دين يا حج يا عمرې څخه)، بېشکه دوی (چې دي) بد کار دی هغه شی چې وو دوی چې کاوه به يې (هغه دا دی چې). نه ګوري (نه ساتي لحاظ نه کوي) دغه عهد ماتوونکي په (حق د هيڅ) مؤمن کې د قرابت (يا د قسم) او نه د عهد، او دغه کسان همدوی دي تېرېدونکي (له حده په شرارت کې).

فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَاِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ ؕ وَنُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝١١
وَاِنْ نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ فَقَاتِلُوْٓا اَئِمَّةَ
الْكُفْرِ ۙ اِنَّهُمْ لَآ اَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ ۝١٢

نو که توبه وويسته (دوی له کفره) او قائم کړ دوی (سم يې اداء کړ سره له ټولو حقوقو) لمونځ، او ورکړ دوی زکات؛ نو وروڼه ستاسې دي په دين (حکم د شريعت) کې، او په تفصيل بيانوو (مونږ) آيتونه (حکمونه د قرآن) لپاره د (هغه) قوم چې پوهيږي (او فکر په کې کوي). او که مات کړل دغو (مشرکانو) قسمونه خپل وروسته له عهد ترلو د دوی (له تاسې سره) او پيغورونه درکړل (عيبونه يې ولګول) په دين ستاسې کې؛ نو وجنګېږئ تاسې له (دغو) مشرانو د کفر سره (او ويې وژنئ)، بېشکه دوی نشته قسمونه دوی ته (او قسم يې له سره قسم نه دی) لپاره د دې چې دوی واوړي (له پيغور يا د عهد له ماتولو يا له شرکه).

تفسير: يعنې که اوس له کفره توبه وباسئ، او ديني احکام (لکه لمونځ زکات او نور) په ځای کړي؛ نو نه يواځې په آينده کې مأمون او محفوظ پاتې کيږي، بلکه په اسلامي دين کې به هم شامل وي، او د هغو حقوقو مستحق ګرځي چې نور مسلمانان يې مستحق دي، او هغه ګردې (ټولې) بد عهدۍ او شرارتونه چې پخوا له دې نه يې کړي وي؛ ټول ورمعاف کيږي.

شاه صاحب «رحمه الله» ليکي چې: «دوی د شريعت په حکم وروڼه دي، له دې نه معلوميږي هر هغه څوک چې په ظاهر کې مسلمان بريښي، او په زړه کې يقين نه لري؛ نو هغه په ښکاره ډول (طريقه) سره مسلمان وګڼئ ! مګر دوست او معتمد يې مه ګرځوئ !».

اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ وَهَمُّوْا بِاِخْرَاجِ الرَّسُوْلِ وَهُمْ بَدَءُوْكُمْ اَوَّلَ
مَرَّةٍ ؕ اَتَخْشَوْنَهُمْ ۚ فَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشَوْهُ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝١٣

آيا نه جنګېږئ تاسې (ای مؤمنانو بلکه ضرور وجنګېږئ) له داسې قوم سره چې مات کړي دي دوی قسمونه خپل، او قصد کړی دی دوی په ايستلو د رسول (ځما لـه مکـې نه)؟ حال دا چې همدوی شروع کړی دی له تاسې سره (جنګ او ماتول د عهد) اول کرت، آيا وېرېږئ تاسې له دوی نه؟، نو الله ښه لايق دی په دې سره چې وويرېږئ تاسې ترې (او له کفارو سره قتال وکړئ) که يئ تاسې مؤمنان (باور کوونکي).

تفسير: قريشو خپل قسمونه او معاهدې ماتې کړې وې، ځکه چې د خپل عهد په خلاف يې د «خزاعه وو» په مقابل کې د «بني بکرو» سره مرسته کړې وه، حال دا چې دوی قسمونه کړي وو، چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خلاف کې له هيڅا سره ملا نه ترو، او يو د بل حليف به نه زهيروو، او نه به يې رنځوو، او بيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم له حليفانو سره چې «بني خزاعه» وو؛ جنګ وکړ.

د ﴿أَلَا تُقَاتِلُونَ قَوْمًا﴾ الآيه ـ څخه دغه غرض معلوميږي: هر قوم چې دا قسم احوال لري، له هغوی سره په جنګېدلو کې مسلمانانو ته هيڅکله هيڅ تأمّل او تردّد نه دی پکار، که له مسلمانانو سره د کفارو له قوت او جمعيت او وسلې او سامان او نورو ځنې وېره وي؛ نو مؤمنانو لره له ګردو څخه زيات د الله تعالى خوف او وېره پکار ده، کله چې د الله تعالى وېره په زړونو کې راشي؛ نو بيا ګردې (ټولې) نورې وېرې له زړونو څخه ووځي، او د الله جل جلاله له قهر او غضب ځنې ويره او لړزه پيدا کيږي، ځکه چې نفع او ضرر ګرد د الله تعالى په واک کې دی، او هيڅ يو مخلوق د الله تعالى له مشيئت څخه پرته (علاوه) لږ ګټه (فائده) او زيان هم چا ته نشي رسولى، او نه پرې قدرت لري.

قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ ﴿١٤﴾ وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ ۗ وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٥﴾

وجنګېږئ تاسې له دغو (کفّارو) سره (ای مؤمنانو) چې په عذاب کړي دوی الله په لاسونو ستاسې (په قتل سره) او رسوا کړي دوی (په مغلوبيت او مقهوريت سره) او مرسته (مدد) درکړي تاسې ته پر دغو (کفارو) باندې، او شفاء ورکړي (زخمي) سينو د قوم مؤمنانو ته (او يخ روغ کړي زخمي زړونه د دوی). او لري کړي (بوځي) قهر او (خفګان) د زړونو د دغو (مؤمنانو چې د کفارو له ايذاء څخه پيدا وو)، او رجوع کوي الله په رحمت سره پر هغه چا چې اراده وفرمايي (د هدايت يې)، او الله ښه عالم دی (په ټولو احوالو او اشياوو) ښه حکمت والا دی.

تفسير: په جهاد کې يوه فائده داده چې: مکذبينو او فتنه اچوونکو ته الله تعالى د بلا واسطې عذاب ورکولو په ځای د خپلو مخلصو وفادارو بندګانو په لاس سزا ورکړي، د سزا ورکولو په دغه صورت کې د مجرمينو تذليل او رُسوايي او د مخلصينو تقدير او سر لوړي ډېره زياته کيږي، او د وفادارو بندګانو نصرت او غلبه علانيه ظاهريږي، د دوی زړونه د دغې منظرې له ليدلو څخه يخيږي، چې هغه وګړي (عالم) او خلق چې تر پرون پورې يې مونږ ته د حقارت او سپکتيا په سترګو کتل، او پر مونږ باندې يې ظلم، استهزاء، او تمسخر کاوه، او پر مونږ باندې يې ملنډې وهلې؛ نن د الله تعالى په تأييد او رحمت سره همدا ځمونږ رحم، کرم، عدل، انصاف، او انسانيت ته سپارلي شوي دي.

د کفر او باطل د شوکت او نندارې له ليدلو څخه اهل الحق پخسېدل او ويلېدل يا هغه ضعيف او مظلوم مسلمانان چې د کفارو د مظالمو انتقام يې نشو اخيستلى، او له دې سببه د دوی په سرونو کې قهر او غوصې، غيظ او غضب جوش کاوه، او دوی خپلې شونډې هم نشوې خوځولى، اوس د جهاد في سبيل الله په وسيله د دوی زړونه تسکين مومي.

آخري خبره دا ده چې پخپله د مجرمينو په حق کې هم دغه د سزا ورکولو طريقه نسبتاً ډېره نافع ده، ځکه چې د سزا موندلو څخه وروسته هم د رجوع او توبې دروازې پرانستلې دي، او ډېر ممکن دي چې له حالا تو څخه عبرت حاصل کړي، او ډېرو مجرمينو ته توبه ور په برخه شي، لکه چې د رسول الله مبارک په زمانه کې همداسې هم وشول، چې په لږه موده کې ګرد (ټول) عرب د زړه له صدقه مسلمانان شول.

أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تُتْرَكُوا وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ وَلَمْ يَتَّخِذُوا مِن دُونِ اللَّهِ وَلَا رَسُولِهِ وَلَا الْمُؤْمِنِينَ وَلِيجَةً ۚ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾

آيا ګمان کوئ تاسې (ای مؤمنانو) داسې چې (همداسې) به پرېښود شئ؟ حال دا چې له سره نه دي معلوم کړي الله (په علم ظهور سره) هغه کسان چې جهاد يې کړی له تاسې څخه، او چې نه دي نيولي دوی پرته (له علاوه) له الله او پرته له رسول د دغه (الله) او پرته له مؤمنانو د پټو خبرو دوست، او الله ښه خبردار دی په هغو (کارونو) چې کوئ (يې) تاسې (د نېکۍ او بدۍ).

تفسير: «آيا ګمان کوئ ای مؤمنانو چې له قتاله وپرېږئ؟ يا ای منافقانو داسې چې پرې به ښود شئ په دې حال سره، يعنې داسې له سره ګمان مه کوئ، چې تشه دعوی د اسلام به ستاسې الله تعالی منظوره کړي، او جلا (جدا) به نه کړي په تاسې کې مخلص له غير مخلص څخه، الله تعالی د جهاد د مشروعيت يو بل حکمت دلته بيان فرمايي.

يعنې هغه کسان ډير دي چې په خولې سره د ايمان او بندګۍ دعوی کوي، خو که دوی د امتحان پر محکّ (کرکانې) باندې ونه سولول شي؛ نو سره او ناسره (چل او ناچل) يې له سره نه څرګندېږي، د جهاد په ذريعه الله تعالی په علم ظهور سره هم دا معلوموي چې څومره مسلمانان داسې دي، چې د ده په لاره کې خپل سر او مال جارولو او ښندلو ته تيار دي؟ او پرته (علاوه) له الله تعالی او رسول الله صلی الله عليه وسلم بل هيڅوک خپل رازدار بادار (سردار) او خصوصي يار نه ګرځوي، اګر که هغه ډېر نژدې خپل او قريب يې هم وي.

مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَن يَعْمُرُوا مَسَاجِدَ اللَّهِ شَاهِدِينَ عَلَىٰ أَنفُسِهِم بِالْكُفْرِ ۚ أُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ ۖ وَفِي النَّارِ هُمْ خَالِدُونَ ﴿١٧﴾ إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ ۖ فَعَسَىٰ أُولَٰئِكَ أَن يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ ﴿١٨﴾

نشته مشرکانو ته (يعنې ناروا دي يا نه دي له شانه د مشرکانو) دا چې ودان کړي مسجدونه د الله (په عبادت په ناسته ولاړه او ورتلو سره) حال دا چې شاهدان وي دوی پر نفسونو خپلو په کفر سره، دغه (مشرکان ابته او) خراب دي عملونه د دوی (چې ايمان نه لري)، او په اور کې به دوی همېشه وي. بېشکه همدا خبره ده چې ودانوي (په عبادت ناسته ولاړه، په تعمير سره) مسجدونه د الله هغه څوک چې ايمان يې راوړی وي په الله او په ورځې آخرې (د قيامت)، او قائموي (سم ادا کوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ، او ورکوي زکات او نه ويريږي (په ديني امورو کې له هيڅا) مګر له الله څخه، نو اميد دی چې دغه کسان به وي له سمې لاری موندونکو ځنې.

تفسير: د مساجدو حقيقي ودانې دا ده چې په هغو کې د يوه الله عبادت د هغه له شانه سره لايق وشي، د الله جل جلاله ذکر کوونکي په کثرت سره په کې موجود وي، څوبې له څه ممانعت او تکليف څخه د الله تعالی په ياد مشغول اوسي، له بربادو او لغوياتو او خرافاتو څخه دغه پاک مقامات محفوظ وي، دغه مقصد له کفارو او مشرکينو ځنې کله حاصلېدی شي؟.

وګورئ چې د مکې معظمې مشرکينو په ډېر فخر سره خپل ځانونه د مسجد الحرام متوليان او خادمان بلل، مګر د دوی لوی خدمت دا وو، چې د تيږو (ګټو) ډېر بتان يې په کعبې شريفې کې ايښي وو، او د همغو نذرونه او نيازونه به يې ورکول، او د دوی نذرونه به يې په غاړو اخيستل، ډېرو کسانو به لوڅ پوڅ (بربنډ) طوافونه کول، د ذکر الله په ځای به يې شپيلي وهل او لاسونه به يې ټکول، او د الله تعالی رښتينو بندګانو ته به يې اجازه نه ورکوله؛ چې هلته ورشي، د هغوی لوی عبادت همدا وو چې حاجيانو ته به يې د څښلو اوبه ويړيا ورکولې، يا به يې د حرم شريف ډيوې لګولې، يا به يې په کعبې شريفې پردې ځړولې، يا به يې د ضرورت په وخت کې د هغې د نړېدلو او لوېدلو ځايونو ترميم او ودانولو ته توجه کوله، مګر دغه اعمال ګرد بې روحه او بې معنی وو، ځکه کله چې مشرک ته په الله تعالی صحيح ايمان نه دی حاصل؛ نو په هيڅ يوه عمل کې د هغه د توجه قبله او د اخلاص مرکز د «وحده لا شريک له د منبع

الكمالات ذات» نشي کېدی، نو ځکه د کافر هیڅ یو عمل د الله تعالی په نزد روح نه لري، او د اعتناء وړ (لایق) نه دی، همدغه یې په ﴿حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ﴾ سره تعبیر وفرمایه.

أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۖ لَا يَسْتَوُونَ عِندَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿١٩﴾

آیا ګڼلې (ګرځولې) دي تاسې اوبه ورکول حاجیانو ته او ودانول د مسجد حرام په مثل (د ایمان) د هغه چا چې ایمان لري په الله او (په) ورځې آخرې (د قیامت) او جهاد یې کړی وي په لاره د الله کې، نه دي برابر دوی په نزد د الله، او الله نه ښیي سمه صافه لاره قوم ظالمانو ته.

تفسیر: د مکې معظمې مشرکانو په دې باندې ډېر افتخار درلود (لرلو) او نازېدل چې مونږ د حاجیانو خدمتونه کوو، او دوی ته اوبه او ډوډۍ اوکالي (کېړې) ورکوو، د مسجد الحرام د ترمیم یا د کعبې شریفې د کسوت (پوښ) یا تېل او باتی او د نورو انتظام کوو، که مسلمانان په خپل جهاد، هجرت او نورو باندې نازېږي؛ نو له مونږ سره د عبادتونو دغه ذخیره شته.

په یوه زمانه کې عباس رضي الله تعالی عنه له علي رضي الله عنه سره همدغه مباحثه په همدغه شان کړې وه، بلکه په صحیح مسلم کې راغلي دي، چې یو ځلې څو تنو مسلمانانو په خپلو منځو کې جګړې سره کولې، لومړني وویل چې: «ځما په خیال له اسلام راوړلو څخه وروسته حاجیانو ته د اوبو ورکولو څخه بل ښه کار نشته»، دویم وویل: «چې ځما په نزد له اسلام راوړلو نه وروسته ډېر ښه عمل د مسجد الحرام خدمت دی، مثلا د هغه جارو کول، ډیوې لګول، حاجیانو ته اوبه او ډوډۍ ورکول او نور، دریم وویل: چې د الله تعالی په لار کې جهاد له ګردو (ټولو) عبادتونو او اعمالو ځنې افضل او اشرف دی».

عمر رضي الله تعالی عنه په دوی باندې په قهر شو، او ویې ویل چې: «تاسې چې د جمعې د لمانځه لپاره راغلي یئ، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم منبر ته نژدې ناست یئ، ولې سره داسې مباحثې کوئ، لږ څه صبر وکړئ ! کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فارغ شو؛ نو د دغې خبرې پوښتنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وکړئ !»، د جمعې له لمانځه څخه وروسته کله چې له رسول الله مبارک څخه دغه پوښتنه وشوه، نو دغه آیت نازل شو: ﴿أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ الآیه - یعنې حاجیانو ته اوبه ورکول او په ظاهري ډول (طریقه) د مسجد الحرام ترمیم او ودانول له ایمان بالله او جهاد في سبیل الله له هیڅ یو سره نشي برابر کېدی، نو د أفضلیت پوښتنه ولې کوئ؟

د ایمان بالله ذکر د جهاد في سبیل الله د تمهید لپاره دی، اصلي مقصود د جهاد او د نورو لویو لویو اعمالو د افضلیت بیان فرمایل دي، د ایمان په ذکر سره یې تنبیه وفرمایله، چې بې له ایمانه د الله جل جلاله په لار کې جهاد یا بل کوم عمل هیڅ ګټه (فائده) نه لري، او محض لاشی دی، د دغو لویو لویو اعمالو (جهاد او هجرت او نورو) ارزښت هم په ایمان بالله پورې اړه لري، او په دغه نکته همغه خلق پوهیږي، چې د سلیم فهم خاوندان وي، د ظالمانو (بې ځایه کار کوونکو) فهم دغو حقائقو ته نشي رسېدی.

الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِندَ اللَّهِ ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴿٢٠﴾ يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُم بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَجَنَّاتٍ لَّهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ مُّقِيمٌ ﴿٢١﴾ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۚ إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿٢٢﴾

هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی (په ټولو مؤمن به شیانو) او هجرت یې کړی دی او جهاد یې کړی په لاره د الله کې (د دین د ترقی لپاره) په مالونو خپلو (چې په جهاد کې یې لګوي) او

په ځانونو خپلو (چې په غزا کې يې قربانوي) ډېر لوی دي (له نورو نه) له جهته د درجې په نزد د الله، او همدغه (ستايل شوي) کسان همدوی دي په مراد رسيدونکي. زېری کوي په دوی رب د دوی په رحمت سره له جانبه خپله او په رضامندۍ سره او په جنتونو سره چې وي به دوی ته په دغو (جنتونو) کې نعمتونه همېشه (دائم بلا انقطاع). حال دا چې همېشه به وي دوی په دغو (جنتونو) کې تل تر تله، بېشکه الله همده سره دی اجر (ثواب) ډېر لوی.

تفسير: يعنې د الله تعالی په دربار کې د ثوابونو او درجو څه کمی دی؟ هر چا ته چې هر څومره اراده وفرمايي؛ ورکوي يې، په ډومبني آيت کې د درېو شيانو ذکر وو:

(١): ايمان. (٢): جهاد. (٣): هجرت، پر دغو باندې د دريو شيانو بشارت يې هم مرحمت وفرمايه:

(١): د الله تعالی رحمت. (٢): د الله تعالی رضا. (٣): په جنت کې تل پاتې کېدل، ابو حيان «رحمه الله» ليکي «چې: «رحمت» په ايمان مرتب دی، هغه څوک چې ايمان نه لري؛ نو په آخرت کې د الله تعالی له رحمت او مهربانۍ څخه بې برخې پاتې کيږي، او «رضوان» چې ډېر اعلی مقام دی، د جهاد في سبيل الله صله او انعام دی، لکه چې مجاهد في سبيل الله د نفساني ځردو (ټولو) خوندونو او تعلقاتو په ترک سره د الله تعالی په لاره کې خپل ځان او مال قربانوي، او د الله تعالی د خوښې د حصول لپاره خپله انتهايي قرباني وړاندې کوي، نو ښايي چې د هغه صله او انعام هم انتهايي وي، او هغه د الله تعالی «جل وعلا شأنه» د رضا مقام دی.

پاتې شو «هجرت» چې هغه د الله جل جلاله لپاره دکور، کورنۍ او طن د پرېښودلو نوم دی، نو ځکه مهاجر ته زېری ورکړی شوی دی، چې ستا له وطنه ډېر ښه وطن او ستا له کوره ډېر ښه کور درکول کيږي، چې په کې همېشه اعلی درجه هوساينه (آرام) او راحت وي، او تل به په کې اوسيږي، او له هغه څخه به بيا هجرت کولو ته له سره نه مجبوريږي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوٓا۟ ءَابَآءَكُمْ وَإِخْوَٰنَكُمْ أَوْلِيَآءَ إِنِ ٱسْتَحَبُّوا۟ ٱلْكُفْرَ عَلَى ٱلْإِيمَٰنِ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٣﴾

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) مه نيسئ تاسې پلرونه خپل او وروڼه خپل دوستان که محبوب ګڼلو دوی کفر په ايمان، او هر چا چې دوستي وکړه له دغو (کفارو) سره له تاسې نو دغه کسان همدوی دي ظالمان.

قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِى سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُوا۟ حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٤﴾

ووايه (ای محمده ! عذر ويونکو ته د هجرت له ترکه) که وي پلرونه ستاسې، او ځامن ستاسې، او وروڼه ستاسې، او ښځې ستاسې، او خپلوان ستاسې، او هغه مالونه چې ګټلي دي تاسې هغه او (هغه) تجارت (سوداګري) چې ويرېږئ تاسې د ناچلېدلو د هغې، او هغه ځايونه د هستوګنې چې خوښوئ تاسې هغه؛ ډېر محبوب تاسې ته له الله نه، او له رسول د الله نه، او له جهاده په لاره د الله کې (لپاره د ترقۍ د دين)؛ نو انتظار کوئ تاسې تر هغه پورې چې راولي (راولېږي) الله امر (حکم د عذاب) خپل، او الله نه ښيي سمه صافه لاره قوم فاسقانو ته.

تفسير: په حديث کې راغلي دي: «کله چې تاسې د غوايي په لکۍ پسې روان شئ، او غويې له لکۍ څخه ونيسئ، او يواځې په کښت (فصل) او کر باندې راضي شئ، او له جهاده غافل شئ، نو پاک الله به پر تاسې يو ذلت مسلّط کړي، چې له هغه څخه به له سره نشئ بچ کېدی، تر هغه پورې چې بيا د دين (يعني في سبيل الله جهاد) په لوري بېرته وګرځئ !.

لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ ۙ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ
عَنكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ أَنزَلَ اللَّهُ
سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَعَذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ
وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ ﴿٢٦﴾

خامخا په تحقيق مدد کړی دی له تاسې سره الله په ځايونو ډېرو کې، او (خصوصا) په ورځ د حنين کې کله چې تعجب کې واچولئ (خوشحالي او فخر کې واچولې) ډېروالي ستاسې؛ نو دفع نه کړ (ډېروالي) له تاسې ځنې هيڅ شی (له حملې د دښمن نه)، او تنګه شوه (له وېرې) پر تاسو باندې ځمکه سره د ارتوالي د دې، بيا شا کړه تاسې (دښمن ته) حال دا چې شا ګرځوونکي (تښتېدونکي) وئ. بيا راولېږه الله تسکين خپل (چې د مؤمنانو د زړونو د آرامۍ سبب شي) پر رسول خپل (چې يواځې د غزا په ډګر کې ولاړ وو)، او پر مؤمنانو (چې بېرته وګرځېدل غزا ته)، او راولېږلې (الله) لښکرې (د ملائکو) چې نه وې ليدلې تاسې دا لښکرې، او په عذاب يې کړل هغه کسان چې کافران شوي وو، او همدا (تعذيب) سزا ده د کافرانو.

تفسير: دلته خبرداری ورکوي چې مجاهدينو ته دا هم نه ښايي؛ چې په خپل لښکري جمعيت او کثرت باندې غرور او تکبّر وکړي، ځکه چې نصرت او بری يواځې د الله په مرسته او مدد پورې تړلی دی، چې دغسې تجربه تاسې پخوا له دې نه په څو څو نورو ميدانونو کې هم کړې ده، هغه نتائج چې په «بدر، قريظه، نضير، حُديبيه» او نورو کې ستاسې په برخه شوي دي؛ هغه تش د الهي امداد او د غيبي تاييد محصول وو، او اوس په آخره کې د «حنين» د غزا واقعه خو داسې يوه صريحه، عجيبه، او غريبه د آسماني نصرت او امداد نښه ده، چې پر هغې سختو معاندو دښمنانو هم اقرار کړی دی.

د مکې معظمې له فتحې وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم ته خبر راورسېد، چې د هوازن او ثقيف او نورو عربي قبائلو يو جرّار او قوي لښکر سره ټول او تيار کړی دی، او غواړي چې په ډېره دبدبه او زور سره پر مسلمانانو حمله وکړي، نو سمدلاسه له مهاجرينو او انصارو څخه همغه لس زري لښکر چې د مکې معظمې د فتحې لپاره له مدينې منورې څخه راغلی وو؛ د «طائف» په لوري ور روان شو، هغه دوه زره طلقاء (آزاد شوي) چې د مکې معظمې د فتحې په وخت کې مسلمانان شوي وو، هم له دوی سره مله وو.

دغه اول ځل دی، چې دولس زره مجهّز عظيم الشأن اسلامي لښکر د جهاد د ميدان لوري ته رهي کيږي، د دې منظرې د ليدلو څخه ځينو صحابه وو خپل ځان د دې خبرې د ويلو څخه ونشو ساتلی، او په ښکاره ډول يې وويل: «کله به چې مونږ ډېر لږ وو؛ نو په هغه وخت کې به تل بريالي وو، نن چې مونږ دومره ډېر يو؛ نو هيڅوک مونږ ته ماتې نشي راکولی»، د مېرنيو (بهادرانو) موحدينو له خولې څخه د دغو جملې وتل د پاک الله جل جلاله په دربار کې ناوړه واقع شول، دوی لا د مکې معظمې څخه دومره لرې نه وو تللي، چې دواړه لښکرې سره مخامخ شوې، چې د مخالفې ډلې لښکر ځلور زره تنه وو، چې خپل کفنونه يې پر سر تړلي وو، او له خپلو ښځو او کوچنيانو سره د جنګ ميدان ته چمتو

شول، او د يوه فيصله كوونكي جنګ لپاره بيخي تيار او منتظر وو، او له اوښانو، آسونو، مواشيو، او د خپلو كورونو ګرد پنډ پنډ مالونو او اسبابونو سره د جګړې ډګر ته وتلي وو.

د «هوازن» قبيلې د غشو ويشتلو په فن كې په ګرد عربستان كې شهرت درلود، د دوی ډېرو ماهرو او غښتلو غشو ويشتونكو د «حُنين» د وادي په لښكرو او مورچلو كې ډېر ټينګ، ټينګ ځايونه نيولي او په كې پټ ناست وو.

په صحيحينو كې د «براء بن عازب رضي الله عنه» روايت دی، چې په ډومبنی معركه او جنګ كې كفارو ماتې وكړه، او ډېر زيات مال، اسباب، او سامان ور څخه پاتې شول، او دوی تر وتښتېدل، دلته مسلمانان مجاهدين غنيمت او ولجې ته متوجه شول، په دغه ترڅ كې د هوازن غشي ويشتونكو څارونكو له مورچلو څخه په سختو غشو ويشتلو باندې لاسونه پورې كړل، او په مسلمانانو پسې ووتل، او سخته غلبله او شور ماشور جوړ شو، او په يوه شېبه كې له څلورو خواوو لكه ږلې غوندې د غشو اورېدل شروع شول.

خبره تر دې حده پورې ورسېده چې مسلمانانو ته هلته درېدل او پښه ټينګول مشكل شول، اسلامي لښكر بيخي خور وور او تيت پرك (منتشر) شوی دی، مګر يواځې له محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يو رفيق اعلى شته، د ربّاني تاييد او آسماني ډاډ غير مرئي باران پر دوی پر څو تنو غوره اصحابو اوري، چې د هغه اثر بالآخر تر تښتېدونكو پورې رسېږي.

له هغه لوري چې د «هوازن» او «ثقيف» سيلاو مخ په وړاندې بهيږي، په هغه لوري د محمدي سورلی مخ دی، او په ژبه يې په نهايت استغناء او اطمينان سره د «أنا النبي لا كذب، أنا ابن عبد المطّلب» وينا جاري ده، يعنې بېشكه زه په رښتيا سره رسول او د عبد المطلب له اولادې څخه يم.

په همدغه حالت كې دوی خپلو اصحابو ته ناري كړې: «إلي عباد الله ! إلي أنا رسول الله» «ای د الله تعالى بندګانو ما ته راشئ ! او ځما په لوري رادرومئ چې زه د الله تعالى رسول يم».

بيا ځمونږ د رسول أكرم صلى الله عليه وسلم له هدايت سره سم عبّاس رضي الله تعالى عنه چې د ډېر لوړ غږ خاوند وو، «أصحاب السمرة» ته ورناري كړې، چې هغوی تر ونې لاندې د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر لاس د جهاد بيعت كړی وو، مجاهدينو غوږونو ته د دې غږ په رسېدو سره سم دوی د خپلو سورليو مخونه د جنګ د ميدان په لوري وګرځول، د هر سړي اوښ چې بېرته ګرځېدلو كې لږ څه معطلي يا ډيل كاوه؛ نو دی به سمدلاسه خپلې وسلې سره د اوښ له شا څخه كوزيده، او خپله سورلی او كالي (سامان) به يې همله خوشې پرېښودل، او ځان به يې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته رساوه.

په دغه وخت كې رسول الله مبارك لږ څه خاورې اوشكې په لاس كې واخيستې، او د كفارو د لښكرو په لوري يې وروشيندلې، چې هغه د الله تعالى په قدرت د هر كافر په مخ او سترګو كې ولوېدې، له بل لوري الله تعالى له آسمانه پرښتې ورولېږلې، كفّارو د هغو شكو له اثره خپلې سترګې مښلې، او هغه مسلمانان چې دوی ته ورنژدې وو، مخ په بېرته پر هغوی يې حمله وروړه، او د پاك رسول صلى الله عليه وسلم په حضور كې ورحاضر شول، او ويې كتل چې جنګ پای ته رسېدلی او بری د مسلمانانو په برخه شوی دی، او په زرهاوو بنديان د پاك رسول په مخ كې تړلي ولاړ دي، او د غنيمت او ولجو ډېر مالونه د دوی په شاوخوا كې پراته دي، ﴿فَسُبْحَانَ الَّذِي بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾ په دې ډول سره كفارو ته په دنيا كې سزا وركړه شوه.

ثُمَّ يَتُوبُ اللَّهُ مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٧﴾

او بيا به رجوع وكړي الله (د توبې په قبول) پس له دې (د حُنين له جنګه) پر هغه چا چې اراده وفرمايي (د رجوع)، او الله ډېر بخښونكی (د خطيئاتو) ښه رحم كوونكی دی.

تفسير: لکه چې هوازن او نورو ته وروسته له دې نه توبه ور په برخه شوه، او زياتره مسلمانان شول.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُواْ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَٰذَا ۚ وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦٓ إِن شَآءَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٢٨﴾

ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) بېشکه همدا خبره ده چې مشرکان نجس (پليت) دي، نو نه دې نژدې کيږي دوی مسجد حرام ته وروسته له کاله د دوی چې دغه (۹ کال د هجرت دی)، او که ويرېږئ تاسې له فقره په (سبب د منع د دوی)؛ نو ژر به غنيان کړي تاسې الله له فضله خپله که اراده وفرمايي (د غنا ستاسې)، بېشکه چې الله ښه عالم دی (په ټولو احوالو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: کله چې الله تعالی د شرک زور او قوت مات کړ، او د جزيرة العرب مرکز «مکه معظمه» يې د مسلمانانو په لاس فتحه او د اسلام په قبضه کې يې راوستله، او عربي قبائلو فوځ، فوځ د اسلام په دائره کې په ننوتلو شروع وکړه، نو د هجرت په نهم کال کې اعلان وشو، چې وروسته له دې نه دې هيڅ يو مشرک يا کافر په مسجد حرام کې نه داخليږي، بلکه هغه ته نژدې يعنې د حرم حدودو ته دې هم نه راځي !، ځکه چې د هغوی زړونه د شرک او کفر له نجاسته دومره پليت او ځنده شوي دي؛ چې حق نه لري دغه مقدس مقام او د توحيد او ايمان مرکز ته داخل شي.

برسېره په دې له صحيحو احاديثو ځنې هم ثابته ده، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د جزيرة العرب ځنې د ځردو (ټولو) مشرکينو او يهودانو او نصرانيانو د ايستلو حکم ورکړی دی، لکه چې ځمونږ د پاک نبي له وروستني وصيت سره سم د عمر فاروق رضي الله تعالی عنه په خلافت کې دغه حُکم عملاً نافذ شو، اوس مسلمانانو ته روا نه دي، چې په دې راضي شي چې کفّار د عربو په خاوره کې د استيلاء يا د توطّن په ډول پاتې شي، بلکه د جزيرة العرب تطهير د توان په اندازه د مسلمانانو فريضه ده.

﴿وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً﴾ الآيه - حرم شريف ته د مشرکينو د تګ او راتګ له بندېدلو ځخه مسلمانانو ته داسې اندېښنه پيدا شوه، چې په تجارت او نورو دنيوي چارو کې به لوی تاوان راورسيږي، او هغه شيان چې دغو مشرکينو د تجارت له پاره راوړل، وروسته له دې به يې نه راوړي، نو ځکه يې تسلي وفرمايله، چې تاسې له دغو خبرو ځخه مه ويرېږئ، ځکه چې ستاسې غنا يوائې د «رب، الأعلى» په مشيئت پورې موقوفه ده، که الله تعالی اراده وفرمايي نو په هغه کې به هيڅ ځنډ رانشي، لکه چې همداسې هم وشول، الله تعالی ځرد مسلمانان کړل، او له مختلفو ملکونو ځخه د تجارتي مالونو راتلل شروع شول، ښه بارانونه واورېدل، چې د هغو لامله حاصلات زيات شول، د فتوحاتو او غنائمو دروازې پرانستل شوې، د کتابيانو او نورو ځنې د جزيې پيسې ورجاري شوې، الغرض الله تعالی له مختلفو لارو د مسلمانانو لپاره د غناء اسباب پيدا کړل، بېشکه چې د الله تعالی هيڅ يو حکم له حکمته خالي نه دی.

قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلْحَقِّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعْطُواْ ٱلْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَٰغِرُونَ ﴿٢٩﴾

وجنګېږئ تاسې له هغو کسانو سره چې نه راوړي ايمان پر الله، او نه په ورځې آخرې باندې (ځکه چې په پاک محمد يې ايمان نه دی راوړی) او نه حرام ګڼي دوی هغه چې حرام کړي الله

(په قرآن کې) او رسول د دغه (الله په حديثونو کې) او نه قبلوي دوی دين حق (د اسلام، دغه مذکورين) له هغو نه (دي) چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب، (جنګ ورسره کوئ) تر هغه پورې چې ورکړي دوی جزيه له (خپله) لاسه حال دا چې دوی ذليل وي.

تفسير: کله چې د مشرکانو معامله پاکه او د ملک سطحه لږ څه هواره او مخه صافه شوه؛ نو حکم وشو چې د کتابيانو (يهودو او نصاراوو) شوکت او قوت مات کړئ، لومړنی مقصد خو دا وو چې د عربستان خاوره د مشرکانو له وجود څخه بيخي پاکه شي، ليکن په دغه وخت کې د يهودو او نصاراوو په حصه کې دومره خبره لازمه او تر نظر لاندې وه؛ چې دوی د اسلام په مقابل کې د زور او قوت خاوندان نشي، او د اسلام د خپرېدو (خورېدو) او ترقی په لاره کې خنډ نشي، نو ځکه اجازه ورکړی شوه؛ که دغه کتابيان تر لاس لاندې رعيت پاتې کيږي، او جزيه ورکول قبلوي؛ نو هيڅ مضايقه نشته، قبول يې کړئ، نو په دغه وخت کې دې اسلامي حکومت د دوی د ځان او مال ساتنه وکړي، که نه د دوی علاج هم همغه دی، چې د مشرکانو وو (يعنې جهاد او قتال).

وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ وَقَالَتِ النَّصَارَى الْمَسِيحُ ابْنُ اللَّهِ ذَٰلِكَ قَوْلُهُم بِأَفْوَاهِهِمْ يُضَاهِئُونَ قَوْلَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَبْلُ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٣٠﴾

او وايي يهودان چې عُزير ځوی د الله دی، او وايي نصرانيان چې مسيح ځوی د الله دی، دغه چتې (بېکاره) وينا د دوی ده په خولو خپلو سره (چې وايي يې بې دليله)، مشابه ده (خبره) د دوی له خبرو د هغو کسانو سره چې کافران شو وو پخوا (له دوی يعنې پلرونه د دوی)، هلاک دې کړي دوی لره الله چې څرنګه ګرځولی شي دوی (له سمې لارې څخه).

تفسير: له رواياتو څخه معلوميږي چې په دغه وخت کې د ځينو يهودانو داسې عقيده وه، چې عُزير عليه السلام د الله تعالی ځوی دی، ليکن دغه عقيده د عامو يهودانو نه وه، بلکه په وروستنيو زمانو کې خو ځينو علماوو ليکلي دي، چې اوس هيڅ يو يهودي پر دغې عقيدې نه دی پاتې، که د نبي صلی الله عليه وسلم په عهد کې د يهودانو کومه فرقه په دې خبرې قائله نه وي؛ نو ضرور به په دغه وخت کې يهودانو د قرآن د حکايت تکذيب کړی وی، لکه چې د ﴿اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ﴾ له اوربدلو ځنې «عدي بن حاتم» اعتراض کړی وو، چې «هيڅوک احبار او رُهبان رب نه ګڼي»، چې د هغه ځواب نبي کريم صلی الله عليه وسلم داسې ورکړ چې وروسته راځي، يهودو ته د دې عقيدې نسبت کول چې عُزير عليه السلام د الله ځوی دی، او له دې خبرې څخه د هغوی د اعتراض او انکار هيڅېرې نه منقولېدل د دې خبرې دليل دی، چې ضرور په هغه وخت کې د دغسې عقيدې خاوندان موجود وو.

هو ! همغسې چې د زمانې په تېرېدو ډېر مذاهب او فرقې محوه شوي او له منځه تللي دي، که دغه عقيده هم له منځه تللې وي؛ نو لرې خبره نه ده، يو ډېر ثقه بزرګ حاجي امير شاه خان وويل چې: د «فلسطين» او نورو ځايونو په سياحت کې ځما ملاقات له داسې يهودانو سره شوی دی، چې هغوی ته به يې د دې رنګ عقائدو په نسبت «عُزيري» ويل، والله أعلم.

﴿يُضَاهِئُونَ قَوْلَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَبْلُ﴾: «مشابه ده خبره د دوی له خبرو د هغو کسانو سره چې کافران شوي وو پخوا له دوی»، يعنې د مسيح ابنيت «ځويتوب» او الوهيت «خدايي» او نورې عقيدې د پخوانيو مشرکينو (چې د دوی پلرونه وو) له عقيدې سره مشابه دي، بلکه د هغوی په تقليد يې دغه عقيده غوره کړېده، لکه چې په (۶ جزء د المائدې سورت په (۱۶) او (۱۷) آيت (۳) رکوع) په تفسير کې مو نقل کړی دی.

﴿قَاتَلَهُمُ اللّٰهُ﴾ الآيه ـ «هلاک دې کړي دوی لره الله» يا «لعنت د الله دې وي پر دوی چې څرنګه ګرځولی شي دوی له لارې سمې څخه، يا چې څرنګه چپ کړی شوي دي له لارې د حق نه»، يعنې الله تعالی دې دوی ووژني، او غارت دې کړي «او لعنت دې پرې نازل کړي»، چې سره د توحيد د صافې او زورورې رڼا د رسېدلو څخه بيا هم دوی د تيارو په لوري ولې درومي؟.

اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ ۚ وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ سُبْحٰنَهٗ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۱﴾

نيولي دي دغو (کتابيانو) عالمان خپل او عابدان خپل معبودان بې له الله (چې متابعت يې کوي په تحليل او تحريم کې) او مسيح ځوی د مريمې (هم په الوهيت نيسي، چې د الله ځوی يې بولي)، حال دا چې امر (حکم) نه دی شوی دوی ته (په تورات او انجيل کې) مګر د دې چې عبادت وکړي دوی د معبود يوه، چې نشته هيڅ بر حق معبود مګر خو همدی دی، پاکې ده الله لره له هغه شي نه چې شريکوي دوی (هغه د الله سره).

تفسير: هره مسئله به چې د دوی علماوو او مشائخو له خپله ځانه جوړوله، که حلالو ته يې حرام يا حرامو ته يې حلال هم ويل؛ هغوی به همغه سند ګاڼه، او داسې خيال به يې کولو، چې بس هم دغه مونږ د الله تعالی له پوښتنې څخه ژغوري (ساتي)، او د آسماني کتابونو له قبلولو سره يې هيڅ علاقه او معامله نه لرله، او يواځې د احبارو او راهبانو پر حکمونو به يې عمل کاوه.

او د دغو عالمانو او عابدانو حال او قال، عمل او کار داسې وو؛ چې د لږ دنيوي مال د فائدې او د جاه او رتبې په مقابل کې به يې شرعي حکمونه بدلول، لکه چې له دوو آيتونو څخه وروسته مذکور دي، نو د الله تعالی کار (يعنې د حلالو او حرامو تشريع) يې علماوو او مشائخو ته ورکړی وو، نو په دغه ملحوظ يې وفرمايل چې: دوی خپل عالمان او شيخان معبودان درولي وو.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم د «عدي بن حاتم» د اعتراض د ځواب ورکولو په ضمن کې هم داسې تشريح فرمايلې وه، او له حُذيفه رضي الله تعالی عنه ځنې همداسې منقول دي، شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «د عالم قول تر هغه پورې عوامو ته سند دی؛ چې د شرعې له مخې خبرې کوي، کله چې معلومه شي، چې هغه عالم له خپله ځانه يا د طمعې يا د نورو شيانو له کبله (وجې) خبرې کوي، نو بيا د ده قول سند نه دی.

يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَيَاْبَى اللّٰهُ اِلَّآ اَنْ يُّتِمَّ نُوْرَهٗ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۳۲﴾

اراده لري دغه (کتابيان) دا چې مړ کړي نور (رڼا د شريعت) د الله په خولو خپلو، او منع راوړي (نه خوښوي) الله مګر دا چې پوره کړي نور (رڼا) خپله (چې شعلې يې په هر طرف خورې شي)، او اګر که بد ګڼي (دا کار) کافران.

تفسير: يعنې لکه چې د خالص توحيد او د اسلام د لمر پلوشې را څرګندې شوي دي، بيا نو دغه ګډې وډې خبرې او د شرک دعوی چېرې پر مخ تللی او خورېدلی شي، دا چې څوک کوښښ کوي، چې بې حقيقته او بې معنی خبرې جوړې کړي، او د بيځايه بحثونو او مجادلو په زور د حق نور (رڼا) بې رونقه (تته) کړي؛ داسې مثال لري چې کوم ناپوه سړی غواړي د خولې په پوکي د لمر يا د سپوږمۍ رڼا مړه يا تته کړي، هر څومره که دې وسوځي، او خپل ځان نيني نيني کړي؛ مګر بيا هم د الله د دين نور په پوره ډول سره خورېږي، او خپلو پلوشو او وړانګو سره نړی روښانوي.

هُوَ الَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ٣٣

الله هغه ذات دی چې لېږلی يې دی رسول خپل (محمد) په هدايت سره (چې قرآن دی) او په دين حق سره (چې اسلام دی) لپاره د دې چې غالب کړي دغه (دين) پر نورو ټولو (اګر که آسماني هم وي) او اګر که بد ګڼي (دا کار) مشرکان.

تفسير: پر نورو اديانو د اسلام غلبه د معقوليت، حجّت، برهان او دليل په اعتبار ده، دغه خو په هره زمانه کې لله الحمد په ښکاره ډول سره حاصله ده، باقي د حکومت او سلطنت په اعتبار دغه غلبه تر هغه وخته پورې حاصله وه، او وي به؛ چې مسلمانان پر اسلامي اصولو باندې په ښه شان عاملان، او د ايمان او تقوى پر لاره ټينګ او سم روان، او په جهاد في سبيل الله کې ثابت وو، او وي، او د حق دين غلبه چې باطل اديان مغلوب، اوبيخي يې د هستى له صفحې څخه محوه کړي، نو دغه د مسيح عليه السلام د نزوله وروسته چې قيامت نژدې کيږي، کېدونکى دى.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡأَحۡبَارِ وَٱلرُّهۡبَانِ لَيَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۗ

اى هغو کسان چې ايمان يې راوړى دى (يعنې اى مؤمنانو !) بېشکه ډېر له عالمانو (يهودانو) او عابدانو (د نصرانيانو) خامخا خوري دوى مالونه د خلقو په باطل (رشوت) او منع کوي (خلق) له لارې د الله څخه،

تفسير: يعنې روبى اخلي، شرعي احکام او الهي اخبار بدلوي، او له بل لوري عوامّ الناس (لکه چې پخوا مو وليکل) دوى ته د الوهيت مرتبه ورکوي، دغه حال مسلمانانو ته اورولى شي، چې مسلمانان هوښيار او خبردار شي، چې د امتونو او د اقوامو د خرابى او تباهى ډېر لوى سبب د درې جماعتونو خرابي او ګمراهي او د خپلو فرائضو پرېښودل دي: (١): علماء. (٢): مشايخ. (٣): أغنياء ـ رؤساء، له دوى څخه د دوو ډلو ذکر پخوا له دې نه تېر شو، د درېم جماعت «رؤساوو» ذکر وروسته راځي، ابن المبارک څومره ښه ويلي دي: «وهل أفسد الدين إلا الملوک و أحبار سوء ورهبانها».

وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ٣٤

او هغه کسان چې خزانه کوي سره زر او سپين زر او نه لګوي هغه په لاره د الله کې (د دين د ترقى لپاره)؛ نو زېرى ورکړه دوى ته په عذاب دردناک سره.

تفسير: هغه خلق چې دولت او ثروت ټولوي، اګر که په حلاله طريقه سره هم وي، خو د الله تعالى په لاره کې يې نه صرفوي، «مثلا زکات نه ورکوي، واجبه حقوق ترې نه باسي».

يَوۡمَ يُحۡمَىٰ عَلَيۡهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكۡوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمۡ وَجُنُوبُهُمۡ وَظُهُورُهُمۡۖ هَٰذَا مَا كَنَزۡتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَكۡنِزُونَ ٣٥

په هغې ورځې چې سختې سرې به کړى شي دغه خزانې په اور د جهنّم (دوزخ) کې؛ نو داغلي به شي په هغه سره وچولي (تندي) د دوى، او اړخونه د دوى، او شاګانې د دوى (او ويلى به شي ورته): دا هغه شى دى چې خزانه کړى وه تاسې لپاره د نفسونو (ځانونو) خپلو؛ نو وڅکئ تاسې (خوند سزا د) هغه (مال) چې وئ تاسې چې خزانه کاوه به مو (په دنيا کې اوس درته بلا شوه په عُقبا کې).

تفسير: كله چې بخيل دولتمن ته د الله جل جلاله په لاره کې د مال د لګولو په نسبت څه وويل شي؛ نو د ده وچولي (تندي) کې ګونځې پيدا کيږي، او که ډېر ورته ووايې؛ نو اعراض کوي، او مخ ترې اړوي، او خپل اړخ ورګرځوي، او که په دغه سره هم خلاص نشو، نو خپله شا ورګرځوي، او خپله مخه نيسي او ځي، نو ځکه سپين او سره زر (طلا او نقره) سره کوي (تودوي)، او د ده همدغه درې ځايونه (وچولی (تندی)، اړخ، شا) پرې داغوي، چې په دې وسيلې سره د خپل د هغه ټول کړي مال خوند او مزه په ښه شان سره وڅکي، او خپله سزا په ښه شان سره وموميِ.

إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ ۚ فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنفُسَكُمْ ۚ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴿٣٦﴾

بېشکه چې مقدار (شمار) د مياشتو (چې معتبر دی) په نزد د الله کې دوولس مياشتې دي په کتاب د الله (لوح محفوظ) کې هغه ورځ (وخت) چې پيدا کړي يې دي آسمانونه او ځمکه د هغو (له جملې) څخې څلور مياشتې محرمې دي، دغه (حساب ياتحريم) دين دی سم، نو مه کوئ ظلم په دغو کې په ځانونو خپلو (په کولو د ګناه)، او جنګونه کوئ تاسې (ای مؤمنانو) له مشرکانو سره ټول (له څرمې (سيلمې) او په هر حال کې) لکه چې جنګونه کوي دوی له تاسې سره ټول له څرمې (سيلمې)، او پوه شئ چې بېشکه الله سره له پرهېزګارانو دی (په ساتنه، مرسته (مدد)، او ثواب ورکولو سره).

تفسير: په عربو کې له قديمه دغه دود او دستور جاري دی، چې دکال د دوولسو مياشتو څخې په څلورو مياشتو کې وينې تويول، جدال او قتال قطعا بنديږي، چې دغو ته بـه يـې «أشهر الحرم ـ محرم الحرام او رجب المرجّب ويلې)، چې په هغو کې به يې د حج او عمرې او تجارتي کارونو لپاره په امن او امان، آزادی او اطمينان سره سفر کاوه، هيڅ يو سړي به په دغو مياشتو کې د خپل پلار په قاتل باندې به هم تعرض نه کاوه.

بلکه ځينو عالمانو ليکلي دي چې: اصلا په ابراهيمي ملت کې دغه څلور مياشتې (أشهر الحرم) مقررې شوې وې، له اسلامه يو څه موده مخکې کله چې د عربو وحشت او جهالت له حده تېر شوی وو، او يو تر بله په جدال او قتال کې مشغول وو، او د ځينو قبائلو د وحشت او سبعيت او د انتقام جذبات د هيڅ يو آسماني يا مځکني قانون تابع نه وو؛ نو د «نسيء» رسم يې وايسته، يعنې څه وخت به چې کومې زورورې قبيلې په اشهر الحرم کې د قتال اراده لرله، نو د هغې مشر به داسې اعلان کاوه، چې سږ کال مونږ دغه «محرّم» له «أشهر الحُرُم» څخه راباسو، او د هغه په ځای د «صفر» مياشت حرامه ګرځوو، او په بل کال کې به يې ويل چې: سږ کال لکه پخوا مونږ «محرّم» حرام او «صفره» حلاله ګڼو، او په دغه ډول به يې په هر کال کې د څلورو مياشتو شمېر پوره کاوه، ليکن د هغو په تعيين کې به يې له خپلې غوښتنې سره سم تغيير او تبديل کاوه.

د ابن کثير «رحمه الله» له تحقيقه سره سم د «نسيء ـ د مياشتو د وړاندې وروسته کولو» رسم يواځې په «محرّم» او په «صفره» کې کېده، او د هغه صورت همغه وو، چې مخکې ذکر شو، او ﴿إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ﴾ الآيه ـ د دغه د ردّ تمهيد دی، يعنې له نن ورځې څخه نه بلکې له هغه وخته راهيسې چې الله تعالى آسمان او ځمکه پيدا کړېده، د الله تعالى له جانبه د ډېرو شرعي احکامو د جاري کولو په غرض د هر کال لپاره دوولس مياشتې مقررې شوي دي، چې په هغو کې څلور مياشتې «أشهر الحرم ـ د ادب مياشتې» دي، او په هغو کې له ګناه او ظلم څخه د ځان ساتلو زيات فکر او ډېر اهتمام پکار دی، او همدغه د ابراهيم عليه السلام سم دين دی.

﴿فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنفُسَكُمْ ۚ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً﴾ الآيه - «نو مه كوئ تاسې ظلم په دغو كې پر نفسونو ځانونو خپلو په كولو د ګناه، او جنګونه كوئ تاسې اى مؤمنانو له مشركانو سره ټول له څرمې (سېلمې) او په هر حال كې الخ».

شاه صاحب ليكي چې: «له دې آيت څخه دغه مسئله څرګندېږي، چې له كافرانو سره هر وخت جنګېدل روا دي، لكه چې د «تبوك» غزا چې ذكر يې وروسته راځي؛ د رجب المرجّب په مياشت كې شوې ده»، او يو له بل سره ظلم او تېرى كول د تل لپاره ګناه ده، او په دغو مياشتو كې لا زياته ګناه لري، د زياترو علماوو همدغه رايه ده، ليكن بهتره خو دا ده، كه كافر د دغو مياشتو ادب وكړي؛ نو ښايي چې مونږ هم له هغه سره لومړى په جنګ پيل (شروع) ونه كړو.

﴿إِنَّمَا النَّسِيٓءُ زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ يُضَلُّ بِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُحِلُّونَهُ عَامًا وَيُحَرِّمُونَهُ عَامًا لِّيُوَاطِـُٔوا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ فَيُحِلُّوا مَا حَرَّمَ اللَّهُ ۚ زُيِّنَ لَهُمْ سُوٓءُ أَعْمَالِهِمْ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿٣٧﴾﴾

بېشكه چې دغه تاخير (د حرمت د يوې مياشتې بلې مياشتې ته) ډېروالى دى په كفر كې، چې ګمراه كولى شي په دې (عمل) سره هغه كسان چې كافران شوي دي، حلالوي دوى دغه (حرامه مياشت) يو كال (په كې جنګ كوي)، او حراموي دوى (پرېږدي په حرمت) دغه (حرامه مياشت) بل كال، (او دغه د نسيء عمل كوي) لپاره د دې چې پوره كړي دوى شمار د هغو مياشتو چې حرامې كړي دي الله، نو حلالوي (په زعم او عمل خپل) هغه مياشتې چې حرامې كړي دي الله، ښايسته كړى شوي دي دوى ته ناكاره عملونه د دوى، او الله نه ښيي سمه صافه لاره قوم كافرانو ته.

تفسير: يعنې كافران خراب كار ښه ګڼي، كله چې د دوى پوهه منقلبه او چپه شي؛ نو د نېكۍ سمه صافه لاره به له كومه وومي؟ په دغه آيت كې د «نسيء» د رسم ذكر چې راغلى دى، د هغه تفصيل په هغه تفسير كې وليكل شو چې: د ﴿ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ﴾ تر آيت لاندې شوى دى.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ ۚ أَرَضِيتُم بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ﴿٣٨﴾﴾

اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى (يعنې اى مؤمنانو !) څه باعث دي په تاسې كله چې وويل شي تاسې ته چې ووځئ تاسې په لاره د الله كې (غزا ته) درانه (او مائل) كېږئ ځمكې ته (او غزا ته نه ځئ)، آيا راضي شوي يئ تاسې په دې حيات دنيوي (ژوندون لږ خسيس تېرېدونكي) لـه (نعمتونـو) د آخرت نه؟ او نه دي نفع اخيستل د دې حيات دنيوي (ژوندون لږ خسيس) په (مقابـل د نعمتونو د) آخرت كې مګر لږ (حقير) دي.

تفسير: د مكې معظمې د فتحې او د «حنين» د غزا څخه وروسته د هجرت په نهم كال نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته معلومه شوه، چې د شام نصراني پاچا د «غسان ملك» د «روم» د قيصر په مرسته (مدد) پر مدينې منورې باندې د تعرّض او يرغل (حملې) په فكر كې دى، نو رسول الله مبارك مناسب وګڼل، چې مسلمانان د مخه د هغوى مخه همغلته د «شام» په حدودو كې ونيسي، او پخوا له دې نه چې دوى اسلامي خاورې ته پښه وړاندې كړي، د هغوى مدافعه وكړى شي، نو ځكه رسول الله مبارك په عمومي ډول ګردو مسلمانانو ته حكم وكړ، چې د «جهاد» لپاره تيار شئ !، سخته تودوخه او قحطي وه، خرماوې (كجورې) پخېدو ته نژدې شوې وې، سيوري ډېر ښه لګېده، نو په دغسې وخت دومره اوږده مسافه پرې كول او نه يواځې د «غسان» له پاچا، بلكه د روم د قيصر د ډېرو منظمو او مجهزو (تيارو) لښكرو سره د اسلامي مركز څخه لرې، د هغه لوى غليم (دښمن) په خاوره كې جګړه كول كوم آسان امر او د لوبو كار نه وو.

نبي كريم صلى الله عليه وسلم نژدې له (٣٠٠٠٠) تكړه مجاهدينو سره د «شام» د سرحداتو په لوري رهي (روان) شول، او د «تبوک» په مقام کې يې سنګرونه ونيول، او د «روم» د قيصر په نامه يې يو مبارک ليک واستولو، او د اسلام په لوري يې ورته دعوت ورکړ، د رسول الله مبارک مقدّس پيغام د قيصر په زړه کې ځای ونيو، مګر د قيصر قوم ورسره موافقه ونه کړه، نو ځکه د اسلام له قبوله محروم پاتې شو.

کله چې د شام خلق د رسول الله صلى الله عليه وسلم له دې ارادې څخه خبر شول، نو دغه خبره يې د «روم» قيصر ته ورښکاره کړه، مګر قيصر له هغوی سره مرسته ونه کړه، نو دغو خلقو د مسلمانانو اطاعت وکړ، او اسلام ته ايل (مائل) شول، مګر اسلام يې رانه ووړ، لږ څه وروسته رسول الله مبارک وفات شو، او د فاروق اعظم رضي الله تعالى عنه په خلافت کې د «شام» ګرد ملکونه د مسلمانانو په لاسونو مفتوح او ونيول شول.

کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د «تبوک» څخه غالب او منصور بېرته تشريف راووړ، الله تعالى په ټولو لويو لويو سلطنتونو د اسلام د رُعب شهرت وغورځاوه، او د مدينې منورې منافقان ډېر زيات فضيحت او رسوا شول.

په دغه آيت کې مسلمانانو ته ډېر زيات تشويق، ترغيب، تحضيض ورکړی شوی دی، او دا يې ښکاره کړېده، چې د لږ څه عيش او آرام لپاره جهاد پرېښودل ګواکې له لوړې څخه د ژورې په لوري له لوېدلو سره مرادف وي، د صادق مؤمن په نظر کې د دنيا عيش او آرام د آخرت په مقابل کې هيڅ اهميت او وقعت نښايي ونه لري، په حديث کې راغلي دي، که د الله تعالى په نزد د دنيا وقعت (قدر) د ماشي د وزر په اندازه وی، نو هيڅ يو کافر ته به يې يو غړپ اوبه هم نه ورکولې.

إِلَّا تَنفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾

که ونه وځئ تاسې (غزا ته او د رسول الله سره لاړ نشئ)؛ نو په عذاب به کړي الله تاسې په عذاب دردناک سره، او بدل به راولي (بل) قوم چې غير له تاسې وي، او نه به رسوئ ضرر تاسې دغه الله (يا رسول الله) ته د هيڅ شي، او الله پر هر شي ښه قادر دی.

إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا ۖ فَأَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَىٰ ۗ وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٠﴾

که ونه کړئ تاسې مرسته (مدد) له دغه (رسول الله) سره (نو الله به ورسره مرسته وکړي ځکه چې) پس په تحقيق مرسته (مدد) فرمايلی وه له دغه (رسول الله) سره الله؛ کله چې راوويست دی (له مکې) هغو کسانو چې کافران شوي وو، حال دا چې دی دويم د دوو وو، کله چې دوی دواړه په غار کې وو، کله چې ويل (محمد) ملګري خپل (ابو بکر صديق) ته: مه خپه کېږه، بېشکه چې الله له مونږ سره دی (په ساتنه، ثواب ورکولو او نصرت کې)؛ نو نازل کړ (راولېږه) الله تسکين (رحمت ډاډينه) خپل په دغه (محمد يا صّديق)، او تاييد وفرمايه (الله) د رسول الله په (داسې) لښکرو سره چې نه لېدلې تاسو هغوی، او وګرځوله الله کلمه د هغو کسانو چې کافران شوي دي (چې شرک يا د کفر دعوت دی) ښکته، او کلمه د الله (توحيد او د اسلام دعوت) همدغه ده لوړه غالبه (همېشه)، او الله ښه غالب قوي دی (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: يعنې که فرضاً تاسې نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره مرسته ونه کړئ؛ باک نشته، د رسول الله مرسته او برى پر تاسې موقوف نه دى، پخوا له دې نه يو داسې وخت هم تېر شوى دى، چې پرته له يو يارغار څخه بل هيڅوک له ده سره نه وو، څو تنه نور مسلمانان چې وو، دوى هم د مکيانو له ظلمونو څخه په تنګ شوي وو، او هجرت يې کړى وو، بالآخر پخپله په رسول الله صلى الله عليه وسلم هم د هجرت حکم وشو.

د مشرکانو وروستنۍ مشوره او جرګه پر دغې خبرې غوټه شوې وه چې: «له هرې قبيلې څخه دې يو يو ځلمى منتخب شي ! او هغوى ټول دې لاسونه سره يو کړي، او په يوه وخت کې دې په خپلو تورو پر محمد باندې ګزارونه وکړي، څو چې د محمد صلى الله عليه وسلم له وژلو نه پر ټولو باندې ديت واوړي، او ګرد قومونه هغه ديت په تقسيم سره ورکړي، او د بني هاشمو له لاسه به دا ونشي چې د محمد صلى الله د وژلو د انتقام له کبله د عربو د ګردو قبائلو سره جنګ وکړي، او د ګرد عربستان دښمني ځان ته وګټي، او قصاص پرې واخلي.

په هغه شپه کې چې د دغو ناپاکو پلمو (منصوبو) د عملي کېدلو لپاره تجويزونو جريان درلود (لرلو)، رسول الله صلى الله عليه وسلم علي رضى الله عنه ته امر وکړ، چې د دوى پر بستره باندې ويده شي، او مامور شو، چې د خلقو هغه امانتونه چې د رسول الله کره ايښودل شوي وو؛ په ډېر احتياط د هغو خاوندانو ته ورسوي، علي رضي الله تعالى عنه ته يې تسلي ورکړه، چې ته په ډېره ډاډينه او اطمينان سره ځما په بستره څملە، او يقين ولره چې ستا يوه ويښته ته به هم څه زيان او ضرر ونه رسيږي.

وروسته له دې نه رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپله د ظالمانو د هجوم له منځه په داسې حال کې ووت، چې: «شاهت الوجوه» يې ويل، او د دوى په سترګو کې يې خاورې شيندلې، او ابو بکر الصديق رضي الله تعالى عنه يې له خپل ځان سره ملګرې کړ، او له مکې معظمې څنې څو ميله لرې لاړ، او د «ثور» په غار کې يې (چې سړى په نيم ساعت کې له مکې معظمې نه هلته ورسيږي، او پر يوه لوړ غره باندې واقع دى)، ځاى ونيوه، دوى تر دريو ورځو پورې په دغه غار کې اقامت وفرمايه، او وروسته له هغه د مدينې منورې په لورې روان شول، او په سلامتى او عافيت سره هلته ورسېدل.

بېشکه د کارونو په انجام کې د الله تعالى کلمه ځُليا کيږي، او الله جل جلاله پر هر شي غالب او قوي دى، او د پاک الله هيڅ يو کار له حکمت څخه خالي نه دى.

اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٤١﴾

ځئ تاسې (غزا ته) حال دا چې سپک اوسئ او درانه او جهاد کوئ تاسې په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو په لاره د الله کې (د دين د ترقى لپاره)، دغه (تګ غزا ته) خير بهتر دى تاسې ته که يئ تاسې چې پوهېږئ (په خپله ګټه (فائده) او تاوان).

تفسير: ﴿خِفَافًا وَّثِقَالًا﴾ يعنې سواره او پلي (پياده)، ماړه او عاجزان، زاړه او ځلميان، (سپک او درانه، روغ او رنځوران، بې وسلې او وسله والا، خواران او چاخ، مريونه او اصيلان، بې ښځې او د ښځو خاوندان) په هر حال کې چې وئ؛ ښايي چې غزا ته ووځئ ! او د عمومي لښکر کشى په وخت کې هيڅ يو عذر او پلمه (بهانه) مه وړاندې کوئ ! «او غزا کوئ په مالونو خپلو سره په توښه او په وسله او په ځانونو خپلو چې ځان ربړوئ لپاره د اعلاء د «کلمة الله» ځکه چې دغه ستاسې تګ غزا ته ډېر غوره دى تاسې ته»، يعنې هم له دنيوي او هم له اخروي حيثه.

لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لَّاتَّبَعُوكَ وَلَٰكِن بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ۚ وَسَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ يُهْلِكُونَ أَنفُسَهُمْ ۖ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٤٢﴾

که وی مال نژدې (آسان) او سفر سهل (منځنې)؛ نو خامخا متابعت به کړی وو دوی ستا، وليکن لرې شوی دی په دوی باندې هغه مسافه (نو ځکه يې مخالفت وکړ)، او ژر به قسمونه وکړي منافقان په الله: که طاقت وی ځمونږ (د سفر)؛ نو خامخا به وتلي وو مونږ له تاسې سره، هلاکوي دوی نفسونه خپل (د دروغجنو په قسمونو)، او الله عالم دی چې بېشکه دوی هرومرو (خامخا) دروغجنان دي (په دې اظهار کې).

عَفَا اللَّهُ عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَتَعْلَمَ الْكَاذِبِينَ ﴿٤٣﴾

عفوه وکړه الله له تا نه، د څه لپاره اذن (اجازه) ورکړه تا دوی ته (د وروسته پاتې کېدلو او ولې دې پرې نښودل) تر هغه پورې چې ښکاره شوي وی تا ته هغه کسان چې رښتيني دي (په دغه عذر کې) او معلوم کړي وي تا دروغجنان.

تفسير: منافقين په دروغو سره عذرونه وړاندې کوي، کله چې دوی د مدينې منورې د پاتې کېدلو اجازه له تا څخه غواړي؛ نو تاسې د دوی له مکر او کيد او نفاق څخه سترګې پټوئ، او داسې ګڼئ چې د هغوی په رفاقت او ملګرتوب کې پرته (علاوه) له فساده بل هيڅ کومه ښېګڼه (نفع) او ګټه (فائده) نه ده متصوره، او د همدې له امله (وجې) تاسې هغوی ته اجازه ورکړه، نو پاک الله جل جلاله دغه وفرمايل چې: که تاسې دوی ته اجازه نه وی ورکړي؛ نو هغه به ډېره بهتره او ښه وه، ځکه چې هلته به ظاهره کېده چې د دوی نه ورتګ ستاسې په اجازه پورې موقوف نه وو، بلکه دوی ته د ورتګ توفيق له سره نه وو، هو ! ستاسې په مخ کې به د دوی رښتيا او دروغ ښکاره کېدل، نو په اجازه ورکولو کې هيڅ ګناه نه وه، خو اجازه نه ورکول د حاضرو مصالحو په اعتبار زيات موزون وو، نو د دغه اعلی او اکمل صورت د ترک له سببه يې خطاب په ﴿عَفَا اللَّهُ عَنكَ﴾ سره شروع کړ.

دا خبره ضروري نه ده، چې د عفوې لفظ خامخا د ګناه په مقابل کې استعمالېږي، ځينو محققينو د ﴿عَفَا اللَّهُ عَنكَ﴾ جمله لکه چې د عربو محاوره ده، د کلام په سر کې يواځې د دعا او تعظيم لپاره بللې ده، مګر له اسلافو څخه هغه څه منقول دي، چې مخکې مو بيان کړل، او د ﴿لِمَ أَذِنتَ لَهُمْ﴾ لفظ د هغه تأييد کوي، والله أعلم.

لَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَن يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَارْتَابَتْ قُلُوبُهُمْ فَهُمْ فِي رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ ﴿٤٥﴾

نه غواړي اجازه له تا نه هغه کسان چې مؤمنان دي په الله او په ورځې آخرې (د قيامت په پټه او ښکاره په وروسته پاتې کېدلو له دې نه) چې جهاد وکړي دوی په مالونو خپلو او ځانونو خپلو سره، او الله ښه عالم دی په پرهېزګارانو (ځان ساتونکو له ببرته پاتې کېدو څخه). بېشکه همدا خبره ده چې اجازه غواړي له تا نه (ای محمده ! د تخلّف) هغه کسان چې ايمان نه لري (په پټه) په الله او پر ورځې آخرې باندې (چې قيامت دی)، او چې

شکمن دي زړونه د دوی (د دین په حقانیت کې)، نو دوی په شک خپل کې سرګردانه (او متحیره دي).

تفسیر: یعنې هغه کسان چې په زړونو کې یې د ایمان او تقوی نور او رڼا ده؛ د هغوی شان دا نه دی چې له جهاده د ځان ژغورنې (محفوظونې) لپاره د مسابقې په ډول دغسې اجازه وغواړي، په ښه‌یایی سره له جهاده د ځان ژغورنې (ساتنې) اجازه غوښتل د هغو کسانو دود او دستور دی؛ چې د الله تعالی جل جلاله په وعدو یقین نه لري، او په اخروي ژوندون یې څه باور نه وي، او د الله تعالی جل جلاله بشارتونو ته چې د اسلام او مسلمانانو د غلبې او بري په نسبت شوي دي؛ تل د شک په نظر ګوري.

وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا لَهُ عُدَّةً وَلَٰكِن كَرِهَ اللَّهُ انبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيلَ اقْعُدُوا مَعَ الْقَاعِدِينَ ﴿٤٦﴾

او که اراده وی د دوی د وتلو (غزا ته له تا سره)؛ نو هرومرو (خامخا) تیار کړی به وو دوی لپاره د وتلو غزا ته څه اسباب د تیاری، ولیکن نه وو غوره کړي الله پورته کېدل د دوی (غزا ته)، نو سست کړل (الله) دوی، او وویل شول دوی ته چې کښئ تاسې له (کور) کښاستونکیو (ښځو، هلکانو، سپینږیرو) سره.

لَوْ خَرَجُوا فِيكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوْضَعُوا خِلَالَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ

نو که وتلي وی دغه (منافقان) په (لښکر د) تاسې کې؛ نو نه به وو زیات کړي دوی تاسې ته (هیڅ شی) مګر شر، خرابي، فساد او چغلي، او خامخا چابکي به کړې وه دوی په منځ ستاسې کې (په چغلی او نورو بدیو کې) حال دا چې غوښتله به دوی تاسې ته فتنه (ستاسې په منځ کې د دښمنی په اچولو او کافرانو څخه ستاسې په وېرولو کې).

تفسیر: یعنې که منافقان له تاسې سره تللي وی؛ نو د خپل جبن، بې زړه توب، او وېرې له سببه به یې د نورو غړي هم سست کړي وی، او یو له بل سره به یې د اچولو له امله (وجې) د مسلمانانو په منځ کې جُدایي او تفریق اچول، او د نفاق اچولو په لاره کې به یې کوښښونه کول، او د دروغو افواهاتو په وسیله به یې مسلمانان له دښمنانو څخه وېرول.

وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴿٤٧﴾

او شته په تاسې کې جاسوسان د دوی لپاره (یا اوربدونکي د خبرو د دوی په ضرر ستاسې)، او الله ښه عالم (پوهه) دی په (نیتونو د) ظالمانو.

تفسیر: یعنې اوس هم جاسوسان یا ځینې داسې ساده او احمقان په تاسې کې شته، چې د هغوی خبرې اوري، او لږ ډېر تري متأثر کیږي «ابن کثیر رحمه الله» اګر که دوی هغسې فتنه او فساد نشو اچولی چې د دغو بدانو له وجوده هیله (امید) کېدی شوه، بلکه له تاسې سره د داسې جاسوسانو یو ځای تلل له یوه حیثه مفید دي، څو هغوی په خپلو سترګو د مسلمانانو ټینګ عزم، شجاعت، میړانه (بهادري)، زړورتوب او نور محامد وګوري، او خپلو مشرانو او امیرانو ته یې خبر ورکړی، څو د هغوی پر زړونو یې د مسلمانانو وېره او هیبت هم پیدا او ځای ونیسي.

لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِن قَبْلُ وَقَلَّبُوا لَكَ الْأُمُورَ حَتَّىٰ جَاءَ الْحَقُّ وَظَهَرَ أَمْرُ اللَّهِ وَهُمْ كَارِهُونَ ﴿٤٨﴾

خامخا په تحقيق لټولې وه دوی فتنه (خرابي) پخوا (له دې نه په احد او خندق کې)، او سنجولي يې وو تاته ټول فکرونه او چلونه (په تدبيرونو او حيلو ستا د دين د ابطال لپاره) تر هغه پورې چې راغی حق (رښتيا وعده ـ د الله نصرت)، او ظاهر (ښکاره غالب) شو امر (حکم ـ دين) د الله حال دا چې دوی بد ګڼونکي وو (نا رضا په زړه او ظاهراً په اسلام کې داخل شول).

تفسير: د هغوی دغه مکاري او فتنه او شرارت کومه نوې خبره نه وه، له شروع څخه د هغوی وضعيت همداسې وو، د «احد» په جنګ کې هم دغه منافقان له خپلو ډلو سره له لارې څخه بېرته راګرځيدلي وو، او د «خندق» په غزا کې به يې ويل: ﴿يَا أَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوا﴾ مګر په پای (آخر) کې دوی و ليدل چې حق په څه ډول (طريقه) غلبه او نصرت وموند؟ او باطل په څه ډول ذليل، سپک، خوار او رسوا شو.

وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ ائْذَن لِّي وَلَا تَفْتِنِّي ۚ أَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوا ۗ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ ﴿٤٩﴾

او ځينې له دغو (منافقانو) څخه هغه څوک دي چې وايي: اذن (حکم) راکړه ماته (د پاتې کېدلو) او مه اچوه ما په فتنه (ګمراهۍ) کې؛ (نو الله وفرمايل چې): خبردار شئ چې په ګمراهۍ کې (لا له پخوا) لوېدلي دي دوی، او بېشکه چې جهنم (دوزخ) هرومرو (خامخا) محيط (چاپېر کېدونکی) دی په کافرانو.

تفسير: يو لوی منافق «جد بن قيس» وويل چې: ما هم دلته په مدينه منوره کې پرېږدئ، چې د روم ښځې ډېرې ښکلې او پيمخې دي، که ځما ستر ګې په هغوی ولګيږي؛ نو ځان به تر ې نشم ساتلی، نو هلته مې مه بيايئ چې د ګمراهۍ په کوهي کې ونه لوېږم، نو الله تعالى جل جلاله وفرمايل چې: هغه د دې لفظ په ويلو او په خپل بې زړه توب، وېرې، کفر او په دروغجنې پرهېزګارۍ باندې د پردې په اچولو سره لا د ګمراهۍ په کنده کې لوېدلی دی، او له دې نه وروسته هم د کفر او نفاق په سبب د دوزخ په کنده کې لويدونکی دی.

ځينو دغه آيت د ګردو منافقانو په حق کې ګڼلی دی، او د ﴿وَلَا تَفْتِنِّي﴾ څخه يې مطلب اخيستی دی، چې: «مونږ له خپلو ځانونو سره مه بيايئ ! او د مالونو او نورو شيانو په زيان کې مو مه اخته کوئ !» نو د دې ځواب يې په ﴿أَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوا﴾ سره ورکړ.

إِن تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِن تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ يَقُولُوا قَدْ أَخَذْنَا أَمْرَنَا مِن قَبْلُ وَيَتَوَلَّوا وَّهُمْ فَرِحُونَ ﴿٥٠﴾

که ورسېږي تاته (په کومه غزا کې لکه بدر) کومه ښېګڼه (لکه نصرت يا غنيمت) نو خفه کوي دوی (دغه نيکي له ډېره حسده)، او که ورسېږي تاته (په کومه غزا کې لکه احد) کومه سختي (لکه زخم يا مرګ)؛ نو وايي دوی: په تحقيق نيولی وو مونږ کار (د احتياط) خپل لا له پخوا څخه (چې جنګ ته لاړ نشو)، او شا ګرځوي دوی (ځي ستا له مجلسه) حال دا چې دوی خوشحاله وي (ستا په مصيبت).

قُلْ لَّنْ يُّصِيْبَنَآ اِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَا ۚ هُوَ مَوْلٰىنَا ۚ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿٥١﴾
قُلْ هَلْ تَرَبَّصُوْنَ بِنَآ اِلَّآ اِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ ۗ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ اَنْ يُّصِيْبَكُمُ اللّٰهُ
بِعَذَابٍ مِّنْ عِنْدِهٖٓ اَوْ بِاَيْدِيْنَا ۚ فَتَرَبَّصُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ مُّتَرَبِّصُوْنَ ﴿٥٢﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) له سره به ونه رسيږي مونږ ته مګر همغه چې ليکلي دي الله ځمونږ لپاره، همدغه (الله) دى مولا (کار جوړوونکى) ځمونږ، او (خاص) پر همدغه الله باندې دې نو توکل (اعتماد) کوي مؤمنان (د هيلو په ترسره کېدلو، د اړتياو «احتياج» په پوره کېدلو او د آفتونو څخه په ژغورلو «محفوظولو») کې. ووايه (اى محمده ! دغو منافقانو ته) چې آيا انتظار کوئ مونږ ته (يعنې نه کوئ) مګر د يوې له دوو نېکيو څخه (چې شهادت يا نصرت دى)، او مونږ انتظار کوو تاسې ته (د يوې له دوو بديو څخه) چې ورسوي تاسې ته الله کوم قسم عذاب (خاص) له خپلې خوا (لکه زلزله، يا تندر يا نور)، يا په لاسونو ځمونږ (لکه قتل، شړل، جزيه يا نور)، او انتظار کوئ تاسې بېشکه چې مونږ هم له تاسې سره انتظار کوونکي يو.

قُلْ اَنْفِقُوْا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا لَّنْ يُّتَقَبَّلَ مِنْكُمْ ۭ اِنَّكُمْ كُنْتُمْ قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿٥٣﴾

ووايه (اى محمده ! منافقانو ته) چې: لګوئ (خپل مالونه په هر شان يې چې لګوئ) په رضا يا په زور (د اسلام) له سره به قبول نه کړى شي له تاسې، بېشکه چې تاسې يئ يو قوم فاسقان (د اسلام له دائرې نه وتونکي).

تفسير: «جدّ بن قيس» منافق چې د رومي ښځو فتنه يې پلمه (بهانه) کوله؛ دا يې هم ويلي وو چې: «يا رسول الله ! صلى الله عليه وسلم ! زه خپله د (تبوک) جهاد ته نشم تلى، ليکن مالي مرسته (مدد) درسره کولى شم»، نو ځواب يې داسې ورکړ چې: د بې اعتقادانو مال نه قبليږي، په خوښۍ سره يې لګوئ يا په ناخوښه، ځکه په خوښۍ سره دالله تعالى جل جلاله په لاره کې د مال لګولو توفيق په دوى کې نشته ! ﴿وَلَا يُنْفِقُوْنَ اِلَّا وَهُمْ كٰرِهُوْنَ﴾ خو سره له هغه هم که بالفرض په خوښۍ سره څه مال د الله تعالى جل جلاله په لاره کې ولګوي؛ نو الله تعالى جل جلاله هغه نه قبلوي، او سبب يې په وروستني آيت کې راښوول شوى دى.

وَمَا مَنَعَهُمْ اَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقٰتُهُمْ اِلَّآ اَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَبِرَسُوْلِهٖ وَلَا يَاْتُوْنَ الصَّلٰوةَ
اِلَّا وَهُمْ كُسَالٰى وَلَا يُنْفِقُوْنَ اِلَّا وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ﴿٥٤﴾

او نه دي منع کړي دوى له دې چې قبول کړى شي له دوى نفقې (ورکړې) د دوى (هيڅ شي) مګر همدې خبرې چې: بېشکه دوى کافران شوي دي په الله او په رسول د دغه (الله)، او نه راځي دوى لمانځه ته مګر په دې حال چې دوى سُست وي، او نه لګوي دوى (د الله په لاره کې هيڅ مال) مګر په دې حال کې چې دوى ناخوښه وي.

فَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ ۭ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ
وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿٥٥﴾

نو په تعجب کې دې نه آچوي تا (ډېر) مالونه د دوى او نه (ډېر) اولاد د دوى، (ځکه چې دغه

ګرد (ټول) استدراج دی) بېشکه همدا خبره ده چې اراده لري الله د دې چې عذاب ورکړي دوی ته په سبب د هغو (شیانو) په دغه ژوندانه دنیوي کې، او (په سختۍ او غم) راووځي ارواح (ساوې) د دوی، حال دا چې دوی کافران وي (او په کفر کې مړه شي).

تفسیر: داسې شبهه پیدا کېدی شي؛ هر کله چې دوی دومره مردود دي، نو په مالونو او اولادونو او نورو نعمتونو ولې بریالي (کامیاب) شوي دي؟ نو د هغه ځواب یې ورکړ، چې دغه نعمتونه د هغوی په حق کې لوی عذاب دی، لکه چې یوه خوندوره لذیذه غذا د روغ رمټ سړي صحت، روغتیا او قوت زیاتوي، او فاسد الاخلاط رنځور هلاک ته ورنژدې کوي، همدغه حال د هغو دنیوي نعمتونو (مالونو، اولادونو او نورو) وګڼئ ! د یوه کافر په حق کې دغه شیان د هغوی د بدو مزاجونو له امله د هلاهلو زهرو په شان دي.

ځرنګه چې کافران د دنیا په حرص او مینه کې غرق او ډوب وي؛ نو ځکه لومړی د هغې په ټولولو کې بې حده ربړونه (تکلیفونه) ګالي (برداشت کړي)، بیا که لږ څه زیان وروړسېږي؛ نو څومره مینه او محبت چې له دغو شیانو سره لري؛ هم هغومره غم او درد ور رسېږي، او هیڅ وخت یې د هغه له فکر، اندېښنې او خفګان څخه زړه نه خالي کیږي، نو بیا کله چې مړ ګ دوی له دغو محبوبو شیانو ځنې جلا کوي؛ نو د دغه وخت د صدمې، حسرت او افسوس کولو اټکل ډېر ګران او مشکل کار دی.

وَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنَّهُمْ لَمِنكُمْ وَمَا هُم مِّنكُمْ وَلَٰكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ ﴿٥٦﴾ لَوْ يَجِدُونَ مَلْجَأً أَوْ مَغَارَاتٍ أَوْ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا إِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُونَ ﴿٥٧﴾

او قسمونه کوي په الله چې بېشکه دوی خامخا له (ډلې) ستاسې (مسلمانانو) څخه دي، حال دا چې نه دي دوی له (ډلې) ستاسې څخه (د باطني کفر په سبب)، ولیکن دوی (داسې یو) قوم دی؛ چې ویریږي (له تاسې نو ځکه تش په ژبو سره اسلام ښکاره کوي). که وموميِ دوی ځای د پناه یا غارونه (چې په کې پټ شي) یا بل کوم ځای د ننوتلو (او د پناه نو) خامخا ګرځیدلي به وو دوی هغه ته حال دا چې دوی به منډې وهلې (له ویرې د مسلمانانو لکه پرې شکولي آسونه چې هیڅ شي به دوی نشو راګرځولی).

وَمِنْهُم مَّن يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ فَإِنْ أُعْطُوا مِنْهَا رَضُوا وَإِن لَّمْ يُعْطَوْا مِنْهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ ﴿٥٨﴾

او ځینې له دغو (منافقانو) څخه هغه دي، چې عیب وایي ستا په (تقسیم) د صدقاتو (او غنائمو) کې، نو که ورکړل شي دوی ته (د دوی له غوښتنې سره سم)؛ له هغې څخه راضي کیږي (په دې قسمت سره)، او که ورنه کړی شي دوی ته له هغه څخه (د دوی په غوښتنې)؛ نو هغه وخت دوی په قهریږي.

وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا مَا آتَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ سَيُؤْتِينَا اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَرَسُولُهُ إِنَّا إِلَى اللَّهِ رَاغِبُونَ ﴿٥٩﴾

او که په تحقیق دوی راضي شوي وی په هغه (مقدار د ولجې «غنیمت» او صدقې) چې ورکړی وو دوی ته الله او رسول د دغه (الله)، او ویلي وی دوی: کافي (بس) دی مونږ ته الله، ژر به راکړي مونږ ته الله له فضل (احسان، رحمت) خپل، او رسول د دغه (الله له بل غنیمته) بېشکه

مونږ الله ته رغبت (تمه) کوونکي یو (چې پخپل فضل سره مونږ له صدقاتو بې پروا وګرځوي؛ نو دا به ورته بهتر وو).

تفسیر: مطلب دا چې نه ښایي دنیوي فاني متاع ته سترګې ونیسې، او لازم دي چې هر انسان یواځې د مهربان الله جل جلاله غوښتونکی وي، او هر هغه ظاهري او باطني دولت چې د الله تعالی جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم» له درباره ورته رسیږي؛ په هغه دې خوشاله او ډاډه اوسي.

إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ ۖ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٦٠﴾

بېشکه همدا خبره ده: چې صدقې (زکات صرفیږي) لپاره د فقیرانو او مسکینانو او عاملانو (مقررو) پر هغه (تحصیل د صدقې)، او هغو ته چې الفت (آشنایي) اچولی شي په زړونو د دوی کې (له اسلام سره)، او (صرفیږي) په (خلاصولو د) غاړو (د نادارو مکاتبانو) کې، او پور وړو (تاوان موندونکو)، او (صرفیږي) په لاره د الله کې، او (صرفیږي لپاره د) مسافرانو (چې مال ورسره نه وي)، (مقرراو لازم کړی شوې ده دغه) فریضه (زکات) له (جانبه) د الله (دغو مصارفو لره)، او الله په هر څه ښه پوه او د حکمت خاوند دی.

تفسیر: ځرنګه چې د صدقو په وېش کې په رسول الله صلی الله علیه وسلم طعن شوی وو، نو ځکه خبرداري ورکوي، چې د صدقو طریقه د الله تعالی جل جلاله له جانبه مقرره شوې ده، او پاک الله جل جلاله د صدقو او د نورو د لګښت ځایونه ټاکلي (مقرر کړي) او د هغه فهرست یې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په لاس ورکړی دی، چې له هغه سره یې سم ویشي، او د هیڅا د غوښتنې تابع نشي کېدی.

په حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «الله تعالی جل جلاله د صدقو (زکات) د وېش اختیار نبي ته نه دی پریښی، بلکه بالذات یې پخپله د هغه د لګښت ځایونه ټاکلي (مقرر کړي)، چې دغه اته دي:

(۱): فقراء: «چې له هغوی سره څه شی نه وي».

(۲): مساکین «چې له هغوی سره په اندازه د حاجت د دوی څه شی میسّر نه وي»، ځینو علماوو د فقیرانو او مساکینو تعریف د دې په عکس کړی دی.

(۳): عاملین: «چې د اسلامي حکومت له لوري د صدقو د راټولولو او په نورو خدمتونو او چارو باندې مامور شوی وي».

(۴): مؤلفة القلوب: «هغه کسان چې د دوی د اسلام راوړلو هیله (امید) کیږي، یا په اسلام کې کمزوري وي، یا داسې نور »، د اکثرو علماوو په نزد رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له وفاته وروسته «مؤلفة القلوبو» ته د زکات ورکولو حکم نه دی پاتې.

(۵): في الرقاب: «یعنې د مریانو د مکاتب والی بدل اداء او آزاد یې کړي، یا یې وپیري (واخلي) او بیا یې آزاد کړي، یا د بندیانو او قیدیانو فدیه ورکړي، او خوشې یې کړي».

(۶): غارمین: «هغه کسان چې پر دوی کومه حادثه راغلې وي، او د هغې په اثر پور وړي شوي وي، یا د کوم ضمانت یا د نورو عواملو له امله (وجې) تر بار لاندې لوېدلي وي».

(٧): في سبيل الله: «په جهاد او نورو ښو کارونو پسې د تلونکو سره دې مرسته (مدد) وکړی شي».

(٨): ابن السبيل: «د هغه مسافر او پردیسي سره مرسته (مدد) کول چې د سفر په حالت کې د نصابو مالک نه وي، اګر که په خپل کور د مال او شتو خاوند هم وي».

وَمِنْهُمُ الَّذِينَ يُؤْذُونَ النَّبِيَّ وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ ۚ قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِينَ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ ۚ وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ رَسُولَ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦١﴾

او ځینې له دوی هغه کسان دي چې آزار رسوي دوی نبي ته، او وایي چې دغه (رسول ټول) غوږونه دي (چې هره خبره آوري او تصدیق پرې کوي)، ووایه (ای محمده ! دوی ته) چې دی آورېدونکی د نېکې (خبرې) ستاسې دی، باور یقین لري دی په (کلام د) الله او باور کوي دی په (خبرو د خالصو) مؤمنانو، او (دی) رحمت دی لپاره د هغو کسانو چې (یواځې یې په ژبه سره ظاهرا) ایمان راوړی دی له تاسې، او هغه کسان چې آزار رسوي رسول الله (محمد) ته؛ مقرر دی دوی ته عذاب دردناک (په آخرت کې).

تفسیر: منافقان به چې په خپلو منځونو کې سره کښېناستل؛ اسلام او د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته به یې بد ویل، که چا به هغوی ته وویل چې: داسې خبرې مه کوئ ! هسې نه چې ستاسې دغه خبرې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورسولی شي، نو دوی به ویل چې: هیڅ پروا نشته، مونږ به د هغه په مخکې د خپلو دغو خبرو د دروغو تأویلونه وکړو، او د خپلو ځانونو پاکي او برائت به ورڅرګند کړو.

ځکه چې هغه خو ټول غوږونه دی، هر خبره چې اوري؛ سمدلاسه یې مني، په خبرو د ده تېرایستل دومره ګران نه دي.

خبره داسې وه چې محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلې حیا، وقار او کریم النفسی له کبله (وجې) سره له دې چې دروغ به ورته څرګند معلومېدل؛ خو بیا یې هم د هغه د ویونکي پت او عزّت ساته، او نه به یې رسوا کاوه، او احمقانو به داسې ګڼل چې ګواکې رسول الله صلی الله علیه وسلم له سره ځمونږ په دغو دروغو نه دی پوهېدلی.

نو الله جل جلاله د دوی ځواب داسې ورکوي: «که دی بیخي غوږ دی، خو ستاسې د خیر او ښېګڼې لپاره دی، د نبي صلی الله علیه وسلم سکوت او اغماض ستاسې پر دروغو خبرو د دې لپاره نه دی؛ چې دوی په ریښتیا ستاسې خبرې یقیني او واقعي ګڼي، بلکه د هغوی یقین او باور د الله تعالی جل جلاله او د مؤمنانو پر خبرو دی، هو ! ستاسې په منځ کې د هغو کسانو په حق کې چې د ایمان مدعیان دي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم سکوت او اغماض یو قسم رحمت دی، ځکه چې سمدلاسه د هغوی تکذیب نه کوي، او نه یې رسوا کوي، مګر د منافقانو بد کارونه د الله تعالی جل جلاله نه پټ نه دي، نو د سختو سزاوو منتظر اوسئ !».

يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ لِيُرْضُوكُمْ وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَقُّ أَن يُرْضُوهُ إِن كَانُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٦٢﴾

قسمونه خوري دوی په الله تاسې ته (چې مونږ منافقان نه یو) لپاره د دې چې راضي کړي دوی تاسې، او الله او رسول د دغه (الله) ډېر حق دار (لایق) دی د دې خبرې چې راضي کړي دغه (منافقان) هغه (رسول الله) که وي دوی ایمان راوړونکي (په حقه سره).

تفسير: شاه صاحب ليکي: «که کوم وخت به رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوی مکر او دغابازي ښکاره کوله، نو دوی به د مسلمانانو په مخکې قسمونه خوړل، چې ځمونږ په زړونو کې کومه بده خبره او خراب نيت نه وو، څو مسلمانان له خپلو ځانونو څخه خوښ او د ځان طرفداري کړي، او نه پوهيږي چې دغه چل بازي له الله جل جلاله او له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره بيخي نه پکاريږي»، که دوی د ايمان په دعوی کې رښتيني وي؛ نو نور خلق دې پرېږدي او يواځې د الله تعالى جل جلاله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم خوښې او رضا پسې دې ولويږي.

أَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّهُۥ مَن يُحَادِدِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَأَنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدًا فِيهَا ۚ ذَٰلِكَ ٱلْخِزْىُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٦٣﴾

آيا نه دي پوهه شوي دوی په دې چې بېشکه شان دا دی هر څوک چې مخالفت کوي د الله او (مخالفت کوي) د رسول د الله؛ پس بېشکه مقرر دی ده ته اور د دوزخ حال دا چې همېشه به وي دی په دغه دوزخ کې او همدغه (خلود) رسوايي ده ډېره لويه.

تفسير: يعنې له هغې رسوايی څخه چې د ځان د ژغورلو (ساتلو) له امله (وجې) دوی نفاق اختيار کړی دی، د هغې نه دا رسوايي لويه ده.

يَحْذَرُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُورَةٌ تُنَبِّئُهُم بِمَا فِى قُلُوبِهِمْ ۚ قُلِ ٱسْتَهْزِءُوٓا۟ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُونَ ﴿٦٤﴾

ويريږي دغه منافقان له دې نه چې نازل کړی شي پر دغو (مؤمنانو د قرآن داسې يو) سورت چې خبروي دغه (مؤمنان) په هغه (کفر او نفاق) چې په زړونو د دوی کې دی (خو سره له هغه هم استهزاء کوي)، ووايه (ای محمده ! دوی ته توبيخاً) چې کوئ تاسې (دغه) مسخرې (چې په سزا به ورسېږئ)، بېشکه چې الله ښکاره کوونکی دی د هغو (خبائثو ستاسې) چې ويرېږئ (له ښکاره کولو نه د هغو).

وَلَئِن سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ ۚ

او قسم دی خامخا که پوښتنه وکړې ته له دوی نه (چې تاسې ولې استهزاء کوئ په دې حال چې دوی تبوک ته تلل)؟ نو ضرور به وايي خامخا دوی چې: بېشکه همدا خبره ده چې وو مونږ چې مجلس او لوبې مو کولې.

تفسير: د (تبوک) غزا ته د تللو په وخت کې ځينو منافقانو د تمسخر او استهزاء په طريقه داسې وويل: «دغه سړي محمد صلى الله عليه وسلم ته ګورئ ! چې د شام د قصرونو او د روم د ښارونو د فتح کولو خوبونه وينې، ده د روميانو سره جنګ هم د عربو په جنګونو قياس کړی دی، مونږ يقين لرو چې سبا به ټول د روميانو په مخ کې لاس ترلې ولاړ يو، دا ځمونږ قاريان صحابه رضي الله تعالى عنهم چې خپله ور، ډارن او دروغجنان دي؛ څرنګه به د روميانو له منظمو او مسلحو او باتورو لښکرو سره وجنګيږي»، وغير ذلک من الهفوات.

دوی دا ډول ويناوې د دې لپاره کولې، چې مسلمانان له روميانو څخه وويروي، او زړونه يې مات کړي، کله چې دغه خبرې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورسېدې، نو دوی منافقان جلب او احضار کړل، او له هغوی څخه يې د دې حقيقت پوښتنه وکړله، دوی وويل: «يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ! که رښتيا مو پوښتی؛ نو مونږ دغسې عقيده

کله لرله، خو داسې ویناوې مونږ یواځې د ټوکو او ساعت ټپرې په ډول کولې، او غوښتل مو چې په دې توګه په آسانۍ سره مزل ووهو، او لار لنډه شي».

قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ ﴿٦٥﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته چې) آیا په الله او په آیتونو (حکمونو) د الله او په رسول د الله پورې وئ تاسې چې استهزاء به مو کوله.

تفسیر: یعنې آیا د ټوکو او مسخرو او ساعت ټپرولو موقع او محک هم دا دی؛ چې د الله تعالی جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغو په احکامو استهزاء او تمسخر وشي؟ په الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې استهزاء او د الهي احکامو سپکاوی داسې شیان دي، که یواځې په ژبه د ټوکو په ډول هم وې؛ کفر دی، بالخاصه چې د منافقانو له خوا د شرارتونو او د باطني پلیتۍ له امله داسې حرکت صادر شي.

لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ ۚ إِن نَّعْفُ عَن طَائِفَةٍ مِّنكُمْ نُعَذِّبْ طَائِفَةً بِأَنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿٦٦﴾

عذرونه مه کوئ تاسې (مونږ ته په دروغو سره) په تحقیق (ظاهراً هم) کافران شوي یئ (د اسلام په طعن سره) وروسته له (اظهار د) ایمان ستاسې، که عفوه وکړو مونږ له یوې ډلې له تاسې څخه؛ نو ضرور عذاب به (هم) ورکړو بلې ډلې ته په سبب د دې چې دوی ببښکه وو ګناهګاران.

تفسیر: یعنې د دروغو له عذره، حیلو، پلمو (تدبیرونو) او بهانو جوړولو څخه هیڅ فائده په لاس نه ورځي، څوک چې د نفاق او استهزاء د سزا وړ (لایق) وي؛ هغه به خامخا ور رسیږي، هو ! که اوس هم څوک د زړه په صدق توبه وکړي، او له خپلو جرمونو څخه لاس واخلي؛ الله تعالی جل جلاله هغه ببنې، یا که یې له ابتداء څخه د کفر او نفاق سره له داسې فتنه اچولو او استهزاء څخه ځان ساتلی وي؛ نو هغو ته به د استهزاء او تمسخر سزا نه ورکوله کیږي.

الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُم مِّن بَعْضٍ ۘ يَأْمُرُونَ بِالْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ ۚ نَسُوا اللَّهَ فَنَسِيَهُمْ ۚ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٦٧﴾

سړي منافقان او ښځې منافقاتې ځینې د دوی له ځینو نورو دي (او په کفر او نفاق کې ګرد سره یو شان دي)، امر (حکم) کوي پر منکراتو (بدیو چې ښیي یې نورو ته)، او منع کوي دوی (خلق) له نېکیو څخه، او کلک نیسي دوی لاسونه خپل (له خیرات او دعا او مناجات نه)، هېر کړی دی دوی الله (او طاعت یې)؛ نو (الله) بې برخې کړي دي دوی (له خپل رحمت نه)، ببښکه چې منافقان همدوی دي فاسقان (یا دوی همدغه وتونکي دي له دائرې د ایمان نه).

تفسیر: یعنې له ټولو څخه لوی یاغیان او غاړه غړوونکي نافرمانان هم دغه بد باطنان منافقان دي، چې د دوی نارینه او ښځې سره له دې چې په ژبو د اسلام اظهار کوي، شپه او ورځ په دې هڅه کې دي، چې په هر ډول حیلې او پلمې (تدبیرونه) جوړې کړي، او خلق په خپلو خبرو اترو سره له ښو کارونو څخه بېزاره او بدو کارونو ته یې تیار کړي، د پېسو لګولو په اصلي ځایونو کې خپل لاسونه موتي او کلک نیسي، مطلب دا چې دوی کلمه وایي، لیکن نه د دوی له ژبې چا ته څه خیر او ښېګڼه رسیږي او نه له ماله، نو الله تعالی هم بالمقابل هېر کړل، او د هېرولو معامله یې ورسره وکړه.

وَعَدَ اللَّهُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ هِيَ حَسْبُهُمْ ۚ وَلَعَنَهُمُ اللَّهُ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ۝٦٨

وعده کړې ده الله له منافقانو سړيو سره او له منافقاتو ښځو سره او له (ټولو) کفارو سره اور د دوزخ تل به وي (دوی) په دغه (دوزخ) کې، همدغه دوزخ بس دی دوی ته (د عذاب او سزا له مخې)، او لعنت کړی دی په دوی الله، او مقرر دی دوی ته عذاب تل مدام (برقرار پاتې کېدونکی).

تفسیر: یعنې دغه یوه کافي سزا ده چې وروسته له هغې بلې سزا ته هیڅ ضرورت نه پاتې کیږي.

﴿وَلَعَنَهُمُ اللَّهُ﴾ : ښایي چې مطلب یې داسې وي، چې په دنیا کې به هم دالله تعالی جل جلاله د لعنت اثر دوی ته برابر رسیږي، یا به دغه جمله د پخوانۍ جملې تاکید وي، والله أعلم.

كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْكُمْ قُوَّةً وَّاَكْثَرَ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ۭ فَاسْتَمْتَعُوْا بِخَلَاقِهِمْ

(تاسې ای منافقانو !) په شان د هغو کسانو یئ چې پخوا له تاسې ځنې وو، وو هغوی سخت له تاسې له جهته د زوره او زیات له جهته د مالونو او اولادونو، نو نفع واخیسته دوی په برخې خپلې (له دنیوي لذتونو).

تفسیر: یعنې د دنیوي خوندونو کومه برخه چې د دوی لپاره مقدّره وه، له هغې څخه یې ګټه (فائده) او د عاقبت هیڅ یو خیال او فکر یې ونه کړ.

فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِخَلَاقِكُمْ كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ بِخَلَاقِهِمْ وَخُضْتُمْ كَالَّذِيْ خَاضُوْا ۭ

نو ګټه (فائده) واخیسته تاسې په برخې خپلې لکه چې ګټه (فائده) اخیستې وه هغو کسانو چې پخوا وو له تاسې څخه په برخې خپلې سره، او ډوب شوئ تاسې په باطلو کې په شان ډوبیدلو د هغو کسانو چې ډوب شوي وو په باطلو کې پخوا له تاسې.

تفسیر: یعنې تاسې هم لکه هغوی د عاقبت له تصوره غافل شوي یئ ! او له فاني متاع څخه څومره برخه چې ستاسې لپاره مقدره ده؛ همغه دررسیږي، او ستاسې ټول کارونه بیخي د هغوی په شان دی، نو ښه وپوهیږئ چې ستاسې حشر هم د هغوی په شان دی، له هغوی سره مال، اولاد او جسماني قوتونه له تاسې څخه زیات وو، خو سره له هغه هم د الله تعالی جل جلاله د انتقام او نیونې څخه یې ځان ونشو ژغورلی (ساتلی)، نو تاسې پر کوم شي باندې ډاډینه او اطمینان لرئ، چې په داسې اندازه د الله تعالی جل جلاله له سزا او پوښتنې څخه بې پروا ناست یئ؟ .

اُولٰۗىِٕكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝٦٩

دغه کسان باطل (خراب محو) شو عملونه د دوی په دنیا او آخرت کې، او دغه کسان هم دوی دي زیانکاران (یا همدغه بې برخې دي له هره بابه).

تفسیر: یعنې هیڅ دنیوي او اخروي برکت او کرامت د هغوی په برخه نشو، باقي د دنیوي لذتونو هغه حصه چې ظاهراً د هغوی په برخه شوه؛ هغه في الحقیقت د دوی په حق کې استدراج او عذاب وو، لکه چې دوه رکوع ړومبی (۵۵) آیت کې د ﴿فَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ﴾ په تفسیر کې تېر شو، او له هغه څخه پخوا په څو نورو ځایونو کې هم لیکلی شوی دی.

أَلَمْ يَأْتِهِمْ نَبَأُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَقَوْمِ إِبْرَاهِيمَ وَأَصْحَابِ مَدْيَنَ وَالْمُؤْتَفِكَاتِ

آيا نه دی راغلی دوی ته خبر (د عذاب د) هغو کسانو چې پخوا وو له دوی نه، قوم د نوح او عاد او ثمود او قوم د ابراهیم او څښتنان د (ښار د) مدین او چپه شوو اړول شوو کلیو (د لوط).

تفسیر: د نوح علیه السلام قوم په طوفان، د (عاد) قوم په صرصر (سیلئ) او د (ثمود) قوم په صیحه (غیبي چغه) هلاک شول، الله تعالی جل جلاله د ابراهیم علیه السلام تایید په عجیب او غریب ډول وفرمایه، چې د هغه په لیدلو سره د هغه قوم ذلیل او ناکام شو، د دوی پاچا (نمرود) په ډېر بد حال او خراب مړک ووژل شو، د مدین ښار اصحاب په صیحه او زلزله او نورو سره تباه شول، د لوط علیه السلام د قوم کلي بیخي په بل مخ واړول شول، او د کانو باران پرې وشو، د دغو ګردو (ټولو) اقوامو قصې بې د ابراهیم علیه السلام له قومه د «الأعراف» په سورت کې تېرې شوي دي.

أَتَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ

چې راوړې وې دوی ته رسولانو د دوی ښکاره معجزې (نو تکذیب وکړ دوی د رسولانو، نو هلاک شول) نو نه وو الله چې ظلم به یې کولو په دوی، ولیکن وو دوی چې په ځانونو خپلو به یې ظلم کولو (په کفر او تکذیب سره).

تفسیر: یعنې الله تعالی جل جلاله هیڅا ته بې سببه او بې ځایه جزا سزا نه ورکوي، دغه خلق په خپله په داسې ګناهونو بوخت (مشغول) او لګیا دي، چې د هغو په اثر پر دوی د الله تعالی جل جلاله د عذاب راتلل ضروري دي.

وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَٰئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ

او سړي مؤمنان او ښځې مؤمنانې ځینې د دوی دوستان دي د ځینو نورو حکم کوي دوی په نېکیو (چې د الله او د رسول الله اطاعت دی)، او منع کوي له بدیو چې (د الله او د رسول الله نه مخالفت دی)، او دروي (له ټولو حقوقو سره سم اداء کوي) لمونځ، او ورکوي دوی زکات، او حکم مني د الله او (حکم مني) د رسول الله، دغه کسان ژر به رحم وکړي په دوی الله، بېشکه چې الله ښه غالب قوي دی (د حکمونو په جاري کولو) ښه د حکمت خاوند (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

تفسیر: یعنې منافقان خلق له نېکۍ څخه منع کوي، او د بدۍ په لوري ترغیب ورکوي، او مؤمنان خلق له بدۍ نه ژغوري، او د نېکۍ په لوري یې تشویق کوي، د منافقانو موټي کلک دي، او د مسلمانانو لاسونه پرانیستي دي، منافقان د شومتیا له امله خپل مال نه لګوي، او مؤمنان د الله تعالی جل جلاله له حکمه سره سم د خپلو مالونو زکات، صدقې او خیرات ورکوي، له منافقانو څخه بیخي الله تعالی جل جلاله هېر دی، ولې مؤمنان هره ورځ پنځه وخته لمونځ کوي، او په ټولو معاملاتو کې د الله تعالی جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حکمونو سره سم تګ کوي، نو ځکه منافقان د الله تعالی جل جلاله د عذاب او د لعنت مستحقان شول، او مؤمنان د پاک الله جل جلاله د ثواب او خصوصي رحمت مستحق وګرځېدل.

وَعَدَ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ۚ وَرِضْوَانٌ مِنَ اللَّهِ أَكْبَرُ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٧٢﴾

وعده کړې ده الله له نارینه وو مؤمنانو او له ښځو مؤمناتو سره د جنتونو چې بهیږي له لاندې (د مانیو او ونو) د هغو (څلور قسمه) ویالې، تل به وي دوی په دغو (جنتونو) کې او (وعده کړې ده الله) د ځایونو پاکو (چې ثابت دي) په جنتونو د تل اوسېدلو کې، او رضاء له (جانبه د) الله ډېره لویه ده (له جنتونو او نعمتونو او نورو څخه)، دغه (رضا د الله) هم دغه بری دی ډېر لوی.

تفسیر: یعنې د ټولو دنیوي او اخروي نعمتونو څخه ډېر لوی نعمت د الله تعالی جل جلاله رضا او خوښي ده، جنت هم له همدې امله غواړي چې هغه د الله تعالی جل جلاله د رضا مقام دی، او حق سبحانه و تعالی جل جلاله به په جنت کې مؤمنانو ته هر ډول جسماني او روحاني نعمتونه او خوشالي ورکوي، مګر د ټولو څخه لوی نعمت به د حقیقي محبوب دائمي رضا او د هغه لیدل وي.

په صحیح حدیث کې راغلي دي چې: حق تعالی جل جلاله به جنتیانو ته غږ کوي چې: «ای جنتیانو !» جنتیان به په ځواب کې عرض وکړي «لبّیک»، بیا به پوښتنه وکړي چې «هل رضیتم ـ آیا اوس خوښ شوي یئ؟» جنتیان به داسې عرض وکړي: «ای پروردګاره ! ولې به نه یو خوشاله حال دا چې تا خپل انتهایي انعام او مهرباني پر مونږ کړې ده»، بیا به داسې پوښتنه وشي، «هل أعطیتم أفضل من ذلک؟ ـ هر هغه شیان چې تر اوسه پورې تاسې ته درکړی شي دي، آیا د هغو څخه د بل کوم شه شي د موندلو اراده او غوښتنه لرئ؟»، جنتیان به سوال وکړي چې: «یا الله جل جلاله ! له دغو نعمتونو او مهربانیو څخه به بل کوم غوره، اعلی او خورا (ډېر) شه نعمت وي؟»، دلته به الله تعالی جل جلاله فرمایي: «أحل علیکم رضواني فلا أسخط علیکم أبدا ـ خپله دائمي رضا او خوښي تاسې ته درلېږم، چې له هغه وروسته به هیڅ خفګان او نا خوښي نه وي».

رزقنا الله وسائر المؤمنین هذه الکرامة العظیمة الباهرة

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿٧٣﴾

ای نبي (محمده !) جهاد کوه ته له کفارو سره (په توره) او له منافقانو سره (په حجت او اقامت د حدودو) او سختي کوه پر دوی، او (آخري) ځای د ورتلو د دوی دوزخ دی، او بد ځای د بېرته ورتلو دی (دا دوزخ).

تفسیر: د (جهاد) معنی د کوم ناکاره شي په دفع کې انتهایي کوښښ کول دي، دغه کوښښ کله په وسله، کله په ژبه، کله په قلم او کله په بله کومه طریقه وي، د منافقانو مقابل کې (چې په ژبه د اسلام اظهار کوي او له زړه مسلمانان نه دي) د محمدي امت د جمهورو په نزد (جهاد السیف) مشروع نه دی، او نه د نبوّت په زمانه کې داسې واقع شوي دي.

نو ځکه د جهاد لفظ په دغه آیت کې عام دی، یعنې په توره، په قلم، په ژبه، په هر وخت، په هر ډول مقابلې سره چې مصلحت وي؛ جهاد دې وشي ! د ځینو علماوو دا رایه ده، که د منافقانو نفاق بیخي ښکاره او عیان شي، نو پر دوی باندې هم (بالسّیف) جهاد کېدی شي.

په هر حال څرنګه چې د تبوک په غزا کې د منافقانو نفاق بیخي ښکاره شوی وو، نو ځکه په دغه آیت کې د دوی سره د لږې سختې رویې غوره کولو هدایت ورکړی شوی دی، ځمونږ نبي کریم صلی الله علیه وسلم فطرتاً ډېر حلیم

او خورا (ډير) نرم خويه او مهربان وو، لكه چې په خپله پاك الله جل جلاله فرمايي: ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ﴾ (۴ جزء د آل عمران سورت (۱۵۹) آيت (۱۷) ركوع) د الله تعالى له جانبه پرې حكم شوى وو: ﴿وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ (۱۹ جزء د الشعراء (۲۱۵) آيت (۱۱) ركوع).

څرنګه چې منافقان هم په ښكاره د مؤمنانو په ډله كې شامل وو، نو ځكه رسول الله صلى الله عليه وسلم هم د هغوى له كارونو څخه اغماض او عفوه كوله، او ورنه تېرېده، او نرمي به يې ور سره كوله، د (تبوك) په غزا كې كله چې منافقانو په پوره ډول سره بيحيايي، عناد، عداوت او دښمني اختيار كړه؛ نو داسې حكم وشو چې اوس د منافقانو په مقابل كې سختي اختيار كړئ ! ځكه چې دغه شرير خلق په ښو اخلاقو او نرمۍ سره په لاره نه راځي.

يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ مَا قَالُوا ۚ وَلَقَدْ قَالُوا كَلِمَةَ الْكُفْرِ وَكَفَرُوا بَعْدَ إِسْلَامِهِمْ وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا ۚ وَمَا نَقَمُوا إِلَّا أَنْ أَغْنَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ مِن فَضْلِهِ ۚ فَإِن يَتُوبُوا يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ ۖ وَإِن يَتَوَلَّوْا يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ عَذَابًا أَلِيمًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۚ وَمَا لَهُمْ فِي الْأَرْضِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٧٤﴾

قسمونه خوري دوى په الله باندې چې نه دي ويلي دوى (دا خبرې چې تاته دررسېدلې دي) او خامخا په تحقيق ويلې وه دوى كلمه (الفاظ) د كفر، او كافران شوي دي دوى (ظاهراً هم) وروسته له (اظهار د) اسلام خپل، او قصد يې كړى وو د هغه شي چې ور ونه رسېدل دوى (هغه ته)، او عيب نه لګاوه دوى (په الله او رسول الله) مګر له دې جهته چې غنيان كړل دوى الله او رسول د الله له فضله خپله، نو كه توبه وويسته دوى (له دغه نفاقه)؛ نو وي به (دغه توبه غوره) خير دوى ته، او كه بېرته وګرځي دوى (له توبې)؛ نو عذاب به وركړي دوى ته الله په عذاب دردناك سره په دنيا كې (په وژلو) او په آخرت كې (په سوځولو سره)، حال دا چې نه به وي دوى ته په (تمامه) ځمكه كې هيڅ ولي (دوست ساتونكى له بلاګانو) او نه مددګار (خلاصوونكى له عذابونو څخه).

تفسير: منافقانو به پسې شا په خپلو منځونو كې يو تر بله د نبي كريم صلى الله عليه وسلم او د اسلامي دين سپكاوى كاوه لكه چې د (المنافقون) په سورت كې به راشي، كله چې كوم مسلمان د منافقانو دغه خبرې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته رسولې؛ نو منافقانو به هغه دروغجن ګڼه، او قسمونه بې خوړل چې مونږ داسې خبرې نه دي كړې، الله تعالى جل جلاله د مسلمانانو د روايتونو تصديق وكړ، چې بېشكه منافقانو همداسې خبرې كړې دي، او د اسلام له دعوى څخه وروسته يې همداسې كلمې د اسلام او د اسلام د نبي صلى الله عليه وسلم په نسبت ويلي دي؛ چې داسې وينا يوائې د همدغو منكرانو له خولو څخه راوتلى شي.

﴿وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا﴾: «او قصد يې كړى وو د هغه شي چې ور ونه رسېدل دوى هغه ته» يعنې د (تبوك) د غزا څخه د بېرته راتللو په وخت كې رسول الله صلى الله عليه وسلم له لښكره بېل شوى وو، او په هغه لاره تلو، چې په غره كې تېره شوې وه، تقريبا دولسو منافقانو خپل اربوزونه (مخونه) ترلي وو، د شپې په تياره كې يې غوښتل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته لاس واچوي، او «معاذ الله» محمد صلى الله عليه وسلم له كومې لوړې څخه ژورې ته وغورځوي، د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره حُذيفه او عمّار رضي الله تعالى عنهما وو، منافقان د عمّار نه چپ چاپېره شول، مګر حذيفه په وهلو وهلو د منافقانو د اوښانو مخونه بل لوري ته واړول، څرنګه چې د هغو مخونه پټ وو، حذيفه رضي الله تعالى عنه او نورو هغوى ونه پېژندل، وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم حُذيفه او عمّار رضي الله تعالى عنهما ته د هغوى ټولو نومونه او شهرتونه وروښودل، او پوره يې ور معرفي كړل.

مګر تاکید يې وکړ چې دا حال چا ته مه وايئ، د دغې واقعې په لوري په ﴿وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا﴾ کې اشاره ده، چې هغه ناپاک قصد چې هغو کړی وو؛ د الله تعالی جل جلاله په فضل او مرحمت سره سر ته ونه رسېد.

ځينو علماوو ليکلي دي، چې په يو ځای کې د اسلامي لښکرو په منځ کې څه کورنۍ جګړه او جنګ نښتی وو، منافقانو دلته په شيطانۍ او اغواء باندې لاسونه پورې کړل، او غوښتل يې چې د انصارو او مهاجرينو په منځ کې د نفاق او اختلاف په اچولو کې کوښښ وکړي، ولې ناکامه پاتې شول، او رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغو په منځ کې جوړه وکړه، چې د (المنافقون) په سورت کې يې تفصيل راځي.

﴿وَمَا نَقَمُوا﴾ الآيه - «او عيب نه لګاوه دوی په الله او رسول الله صلى الله عليه وسلم مګر له دې جهته» يعنې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دعا په برکت الله تعالی دوی بډايان (مالدار) کړل، د پور له باره يې اوږې سپکې شوې، مسلمانانو سره د ناستې ولاړې له امله (وجې) په ولجو (غنيمت) کې د حصو او برخو خاوندان شول، او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د دعا په برکت د دوی حاصلات او پيداوار ښه شوی وو.

نو دوی د دغو نعمتونو په بدله کې له الله تعالی جل جلاله او رسول الله صلى الله عليه وسلم سره چل، فريب او ټګي کوله، او په هر ډول د رسول الله صلى الله عليه وسلم او مسلمانانو ربړلولو (تکليفولو) ته يې ملاوې تړلې وې، نو که دوی اوس هم توبه وباسي، او له خپل شرارتونو او احسان هېرولو څخه لاس واخلي؛ نو دغه کار به د دوی په حق کې ډېر ښه وي، که نه الله تعالی جل جلاله به په دنيا او عُقبا کې دوی ته داسې سزا ورکړي، چې د ځمکې په مخ به هيڅوک نه موندل کيږي، چې له هغې څخه دوی خلاص کړي، په ځينو روايتونو کې راغلي دي، چې (جلاس) نومې يو سړي د دغو آيتونو د اورېدلو په اثر د زړه له خلاصه توبه وويسته، او خپل پاتې ژوند يې له اسلامه جار کړ.

وَمِنْهُم مَّنْ عَٰهَدَ اللَّهَ لَئِنْ ءَاتَىٰنَا مِن فَضْلِهِۦ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ الصَّٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾ فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُم مِّن فَضْلِهِۦ بَخِلُوا بِهِۦ وَتَوَلَّوا وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٧٦﴾

او ځينې له دغو (منافقانو) څخه هغه څوک دي، چې عهد يې کړی وو له الله سره: قسم دی چې خامخا که راکړي (الله) مونږ ته (مال) له فضله خپله؛ نو خامخا خيراتونه به ورکوو هرومرو (خامخا) (زکات به ترې باسو) او خامخا به شو مونږ هرومرو (خامخا) له صالحانو څخه. نو کله چې ورکړ (الله) دوی ته (مال) له فضله خپله؛ نو بخل يې اختيار کړ په هغه (مال) او بېرته وګرځېدل دوی حال دا چې دوی څنګ کوونکي وو (له حقه).

تفسير: دا آيت کريمه د ځينو منافقينو په هکله نازل شوی دی لکه: نبتل بن الحارث، جدّ بن قيس او معتب بن قُشير، (تفسير القرطبي، زاد المسير).

فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِى قُلُوبِهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ يَلْقَوْنَهُۥ بِمَآ أَخْلَفُوا اللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ ﴿٧٧﴾

پس وګرځاوه (الله) عاقبت (د فعل) د دوی نفاق په زړونو د دوی کې (چې هيڅ لرې به نشي) تر (هغې) ورځې پورې چې مخامخ کيږي به له الله سره (په قيامت کې)، په سبب د هغه چې مخالفت کړی وو دوی د الله له هغې خبرې چې وعده کړې وه دوی له الله سره، او په سبب د دې چې وو دوی چې دروغ به يې ويل.

تفسير: يعنې له الله تعالی جل جلاله سره د څرګندې وعده خلافي او دروغ ويلو په سبب دوی د بخل او اعراض اثر داسې شو؛ چې د تل لپاره د نفاق ونه د دوی په زړونو کې قائمه شوه، او تر مرګه پورې لرې کېدونکې نه ده، او د الله

جل جلاله عادت په دې جاري دی، چې که کوم سړی ښه یا بد خصلت ځان ته غوره کړي؛ نو د بیا بیا کولو له امله هغه دائمي ګرځي، د خراب خصلت له دغه دوام او استحکام څخه کله کله په ختم او طبع (مهر لګولو) سره تعبیر کیږي.

أَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ ﴿٧٨﴾

آیا نه دي پوهیدلي دغه (وعده خلافان) چې بېشکه الله عالم دی په پټو (نیتونو) د دوی، او په پټو مجلسونو د دوی، او (نه دي پوهیدلي دوی په دې خبره چې) بېشکه الله ښه عالم دی په ټولو پټو (خبرو هم).

ٱلَّذِينَ يَلْمِزُونَ ٱلْمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ فِى ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ سَخِرَ ٱللَّهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٩﴾

هغه منافقان چې عیب وایي په (ډېرو) خیرات کوونکو باندې له مؤمنانو په (اداء د) صدقاتو کې او (بل) د هغو (بې وزلو عیب وایي) چې هیڅ نه مومي دوی مګر په قدر د وس (او زیار او کوښښ) خپل، پس مسخرې کوي دغه (منافقان) په دوی پورې، ټوقې مسخرې به وکړي الله په دوی پورې (د دوی د مسخرو په مقابل کې) او شته دوی ته عذاب دردناک.

تفسیر: یو ځلې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته د صدقې ورکولو په نسبت ترغیب وکړ: «چې په دغو صدقاتو د تبوک د لویې غزا تیاری وکړي، ابو بکر الصدیق رضي الله تعالی عنه هر څه چې په کاله کې موندل؛ هغه یې ټول ورکړل، عمر فاروق رضي الله تعالی عنه خپل نیمایي مال ورکړ، جامع القرآن عثمان بن عفان رضي الله تعالی عنه درې سوه اوښان له بارونو سره ورکړل، علي مرتضی رضي الله تعالی عنه زر اشرفۍ ورکړې، عبد الرحمن بن عوف رضي الله تعالی عنه څلور زره درهم (یا دینار) ورکړل، عاصم بن عدي رضي الله عنه سل وسقه خورما (چې قیمت یې څلور زره درهمه کېده) ورکړې».

نو منافقانو د دغو صدقې ورکوونکو بد ویل شروع کړل، او ویل به یې چې: دغو نومورو معظمو أصحابو دغه ډېرې روېۍ او زیات مال په ریا او ځان ښودنې ورکړي دي، او یو غریب مفلس صحابي ابو عقیل حبحاب چې په خواری او مزدورۍ او مشقت سره به یې لږ شی ګټل، یوه پیمانه خورما صدقه کړه، نو منافقانو پر ده باندې خندل، او ملنډې به یې پرې وهلې، چې دې خامخا په زور سره خپل ځان ښیي، او ځان په وینو لړلو شهیدانو کې داخلوي، که نه یوې پیمانې خرماوو ته د الله تعالی جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه څه احتیاج؟ خو نوم یې کاوه، مطلب دا چې لږ او ډېر شي ورکوونکي دواړه د دوی له ژبو نه وو خلاص، ځینو ته به یې پیغورونه ورکول، او په ځینو به یې مسخرې کولې؛.

نو الله تعالی جل جلاله وفرمایل: ﴿سَخِرَ ٱللَّهُ مِنْهُمْ﴾ «الله تعالی جل جلاله به د دې پیغورونو او مسخرو په مقابل کې په دوی پورې ټوقې او مسخرې وکړي»، که څه هم ظاهراً دوی څو ورځې د ټوکو، مسخرو او منلډو (ټوقو) لپاره آزاد پرېښودلي شوي وو؛ خو په حقیقت کې په پټه کې د دوی د امن او هوسایۍ (آرام) ټولې ریښې او رګونه پرې کیږي، او دوی ته ډېر دردناک عذاب تیار دی.

ٱسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِن تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٨٠﴾

بخښنه وغواړه لپاره د دغو (منافقانو) یا مه غواړه بخښنه (لپاره د دغو منافقانو)، که بخښنه وغواړې ته دوی ته اویا کرته؛ نو له سره به بخښنه ونه کړي الله دوی ته، دغه (نه بخښل) په سبب د دې

دي، چې بېشکه دوی کافران شوي دي په الله او په رسول د الله، او الله نه ښيي سمه صافه لاره قوم فاسقانو ته.

تفسير: يعنې د منافقانو لپاره چې تاسې هر څومره استغفار او بخښنه غواړئ، هغه د دوی په حق کې بيخي بې اثره او بې فائدې ده، الله تعالى جل جلاله دا بدبخته کافران او نافرمانان هيڅکله نه بخښي.

دا پېښه داسې وشوه چې په مدينه منوره کې د منافقانو رئيس عبد الله بن أُبيّ مړ شو، رسول الله صلى الله عليه وسلم د کفن لپاره خپل مبارک کميس ورکړ، او د خپلې خولې مبارکې لاړې يې په خوله کې ورواچولې، او د ده د جنازې لمونځ يې اداء کړ، او د مغفرت دعا يې ورته وکړه.

عمر رضي الله تعالى عنه په دغه معامله کې مداخله او مخالفت وکړ، او ويې ويل چې: يا رسول الله ! دا خو همغه خبيث دی چې په هغه او دغه وخت کې يې دغسې او هغسې ناولي کارونه کړي وو، او تل د کفر او نفاق مشر او بيرغ پورته کوونکی وو، آيا الله تعالى جل جلاله نه دي فرمايلي: ﴿اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِن تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ﴾.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «ای عمره ! زه له استغفاره نه يم منع شوی، بلکه آزاد پرېښودل شوی يم، چې بخښنه وغواړم يا ونه غواړم، او دغه د الله تعالى جل جلاله کار دی چې بخښنه ورته کوي، که يې نه کوي» يعنې که ځما استغفار هغه ته ګټه (فائده) ونه کړي؛ نو ودې نه کړي، ښايي چې ځما دا کار د نورو په حق کې ګټور ثابت شي، که د اسلام لوی دښمنان د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ښو اخلاقو وسعت او عام رحمت ووينې؛ نو مسلمانان به شي لکه چې همداسې هم وشول.

د صحيح بخاري شريف په يو روايت رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «که زه پوهېدی چې په اويا ځلې استغفار سره هم هغه ته بخښنه کېدلی؛ نو ما به له اويا ځلې څخه زيات استغفار ورته غوښتلی وی»، ګواکې په دغې جملې سره رسول الله صلى الله عليه وسلم تنبيه وفرمايله، چې د عمر رضي الله تعالى عنه په شان ده هم هغه ته خپل استغفار ګټور نه ګڼه، يواځې دومره قدرې فرق شته، چې د عمر رضي الله تعالى عنه نظر يواځې د (بغض في الله) له کبله (له وجې) په همدغې نه بخښنې پورې مقصور وو، مګر نبي کريم صلى الله عليه وسلم دمړي د ګټې (فائدې) څخه صرف نظر کړی، د نبوت د عمومي شفقت اظهار او د ژوند يو فائده يې په نظر کې نيولې وه.

بالاخر د الله تعالى وحي ﴿وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِ﴾ په تصريح سره د منافقانو د جنازې کولو يا د دوی په تکفين، تدفين او تجهيز کې له برخې اخيستو څخه يې منع کړ، ځکه چې له دغه وضعيت (حالت) څخه د منافقانو د لا زړور کېدلو او د مسلمانانو د زړونو د ماتېدلو احتمال وو، نو د دې آيت له نزوله وروسته بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د هيڅ يو منافق جنازه اداء نه کړه.

فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللَّهِ وَكَرِهُوا أَن يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَالُوا لَا تَنفِرُوا فِي الْحَرِّ ۗ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا ۚ لَّوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ ﴿٨١﴾

خوشاله شوي وو بېرته پاتې شوي (له غزا د خپل نفاق له امله ـ وجې) په کېناستو خپلو بېرته له رسول د الله څخه، او بده ګڼله دوی دا چې جهاد وکړي دوی په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو په لاره د الله کې، او ويل به دوی (په خپلو منځونو کې يا مؤمنانو ته) چې: مه ځئ تاسې (د تبوک دې غزا ته) په دغې ګرمی کې، ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې اور د دوزخ ډېر سخت دی له جهته د ګرمی (دوی ته له دې حرارته) که وی دوی چې پوهېدی (نو نافرماني به يې نه وه کړې).

تفسير: دا د هغو منافقانو په متعلق دی، چې د (تبوک) په غزا کې يې ګډون نه وو کړی، يعنې د منافقانو دغه حال چې د بدو او عيب جنو کارونو په کولو خوښيږي، او له ښو کارونو څخه کرکه کوي، او لرې تر تې تښتي، لکه چې زياتره ښو خلقو ته پيغورونه ورکوي، او مسخرې پرې کوي، دغسې قوم ته د پيغمبر صلى الله عليه وسلم له استغفاره څه ګټه (فائده) رسېدی شي؟ له دې ځايه د ګناهګارو او بد اعتقادو په منځ کې فرق پيدا کيږي.

داسې هيڅ يوه ګناه نشته چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په استغفار ونه بخښله شي، ﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوٓا أَنفُسَهُمْ جَآءُوكَ فَٱسْتَغْفَرُوا۟ ٱللَّهَ وَٱسْتَغْفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُوا۟ ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا﴾ (٥ جزء د النساء سورت (٦٤) آيت (٩) رکوع).

ليکن بد اعتقاد ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اويا ځلې استغفار څخه هم څه فائده نه ور رسيږي.

﴿وَقَالُوا۟ لَا تَنفِرُوا۟ فِى ٱلْحَرِّ﴾ «او ويل به دوی په خپلو منځونو کې مؤمنانو ته چې: مه ځئ تاسې دغې غزا د تبوک ته په دغې ګرمی کې»، يعنې يا منافقانو دغسې ويناوې په خپلو منځونو کې سره کولې، يا خو يې ځينو مؤمنانو ته، څو د دوی زړونه مات او همتونه يې سست کړي.

﴿قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا ۚ لَّوْ كَانُوا۟ يَفْقَهُونَ﴾ «ووايه ای محمده ! دوی ته چې: اور د دوزخ ډېر سخت دی ل جهته د ګرمی دوی ته له دې حرارته که وی دوی چې پوهېدی؛ نو نافرماني به يې نه وه کړې»، يعنې که دغو منافقانو پوهه لرلی؛ نو داسې فکر به يې کاوه چې دوی د هغه حرارت او تودوخې څخه ځان ژغورې (ساتې) خو د هغه په ځای د داسې حرارت په لورې ورځې، چې د هغه ګرمي د دې ګرمی څخه ډېره زياته او نهايته سخته ده، د دغه مثال خو داسې کېدی شي، چې کوم لېونی له لمره وتښتي، او په اور کې ننوځي، په مبارک حديث کې راغلي دي، چې د دوزخ د اور حرارت د دنيا له اور څخه (٩٧) درجې زيات دی، نعوذ بالله منها.

فَلْيَضْحَكُوا۟ قَلِيلًا وَلْيَبْكُوا۟ كَثِيرًا ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿٨٢﴾

نو ودې خاندي دوی لږ (په دنيا کې) او ودې ژاړي ډېر (په آخرت کې) له جهته د جزاء په سبب د هغه عمل چې وو دوی چې کاوه به يې.

تفسير: يعنې دوی دې څو ورځې په خپلو دغو حرکاتو خوښ او خوشال اوسي ! او ودې خاندي ! بيا به دوی د دغو چارو په سزا کې تل ترتله وژاړي !.

فَإِن رَّجَعَكَ ٱللَّهُ إِلَىٰ طَآئِفَةٍ مِّنْهُمْ فَٱسْتَـْٔذَنُوكَ لِلْخُرُوجِ فَقُل لَّن تَخْرُجُوا۟ مَعِىَ أَبَدًا وَلَن تُقَٰتِلُوا۟ مَعِىَ عَدُوًّا ۖ إِنَّكُمْ رَضِيتُم بِٱلْقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَٱقْعُدُوا۟ مَعَ ٱلْخَٰلِفِينَ ﴿٨٣﴾

نو که بېرته راوستې ته الله (مدينې ته) يوې طائفې ته له دغو وروسته پاتې شويو خلقو څخه (چې منافقان دي)، نو بيا اجازه وغواړي دوی له تا څخه د وتلو (بلې غزا ته)؛ نو ووايه (ای محمده ! دوی ته): چې له سره به ونه وځئ تاسې له ما سره هيڅکله (هيڅ جنګ ته)، او له سره به ونه جنګېږئ په ملګرتيا ځما د هيڅ دښمن سره، ښکه چې تاسې راضي شوي يئ په کښاستو (او بېرته پاتې کېدلو) اول واړې (په غزا د تبوک کې)؛ نو بيا ناست اوسئ تاسې سره د بېرته پاتې شويو (ښځو او هلکانو).

تفسير: رسول الله صلى الله عليه وسلم په (تبوک) کې او منافقان په مدينه منوره کې وو، ممکن وو چې ځينې منافقان د رسول الله صلى الله عليه وسلم له راتګه پخوا مړه شي، نو ځکه يې ﴿إِلَىٰ طَآئِفَةٍ مِّنْهُمْ﴾ وفرمايل، يعنې که او س دغه منافقان بلې کومې غزا ته د تلو اجازه وغواړي؛ نو ته دوی ته داسې ووايه: بس دی ستاسې مېرانه (بهادري)، او توره ښه

راخرګنده شوه، او ستاسې د زړونو حال لا ړومبی له دې ښکاره شوی دی، نو وروسته تر دې له مونږه سره وتلی نشئ، او نه د اسلام د دښمنانو په مقابل کې څه مټرانه (بهادري) ښوولی شئ، نو د بې لاسو او بې پښو ضعیفانو او ناتوانو، سپین ګیرو او هلکانو، جونو او ښځو سره پخپلو کورونو کې کښئ، او هغه شی چې اول ځلې تاسې د خپلو ځانونو لپاره غوره کړی ډېر ښه دی، چې پر همغه حالت باندې ومرئ، څو د الله تعالی جل جلاله د عذاب خوند ښه وځکئ.

وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِۦٓ ۖ إِنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٨٤﴾

اومه کوه لمونځ (د جنازې) په هیڅ یو تن له دغو (منافقانو) چې مړ شي هیڅکله، او مه درېږه په قبر د ده (د دعا، استغفار یا د تدفین د اهتمام لپاره)، ببشکه چې دغه (منافقان) کافران شوي دي په الله (چې شرک یې کړی دی) او په رسول د الله (چې له زړه یې نه دی منلی) او مړه شول حال دا چې دوی فاسقان وو.

تفسیر: دغه آیت د عبد الله بن أُبيّ څخه وروسته نازل شوي دي، لکه چې د همدې سورت د (٨٠) آیت په تفسیر کې مونږ هغه په تفصیل سره لیکلي دي، د دې آیت له نازلېدو نه وروسته د منافقینو جنازه کول بیخي منعه شو، عمر فاروق رضي الله تعالی عنه به احتیاطاً د هغه سړي په جنازه کې ګډون نه کاوه، چې د هغه په جنازه کې به حُذیفه رضي الله تعالی عنه ګډون نه وو کړی، ځکه چې حذیفه رضي الله تعالی عنه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم د ډېرو منافقانو نومونه ښوولي وو، او ښه ورمعرفي کړي وو، نو ځکه د ده لقب (صاحب سرِّ رسول الله صلی الله علیه وسلم) وو.

وَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَٰلُهُمْ وَأَوْلَٰدُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُعَذِّبَهُم بِهَا فِى ٱلدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ كَٰفِرُونَ ﴿٨٥﴾

او نه دې په تعجب کې اچوي تا مالونه د دغو (منافقانو که څه هم ډېر وي) او اولادونه د دوی (که څه هم قوي او زورور وي)، ببشکه همدا خبره ده چې اراده لري الله د دې چې په عذاب کړي دوی په دغو (مالونو او اولادونو) په دغه دنیا (لږ خسیس ژوندون) کې، او ووځي (له بدنه ساوې) ارواح د دوی (په ډېر سختی او غم سره)، حال دا چې دوی کافران وي (او په کفر ومري).

تفسیر: په همدې جزء د (التوبة) په (٥٥) آیت (٧) رکوع کې په همدې مضمون یو بل آیت هم تېر شوی دی، دلته دی همغه تفسیر بیا وکتل شي.

وَإِذَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ أَنْ ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَجَٰهِدُوا۟ مَعَ رَسُولِهِ ٱسْتَـْٔذَنَكَ أُو۟لُوا۟ ٱلطَّوْلِ مِنْهُمْ وَقَالُوا۟ ذَرْنَا نَكُن مَّعَ ٱلْقَٰعِدِينَ ﴿٨٦﴾

او کله چې نازل کړ شي کوم سورت په دې خبره چې ایمان راوړئ تاسې په الله او جهاد وکړئ تاسې په ملګرتوب درسول د الله؛ نو غواړي اجازه له تا نه (د بېرته پاتې کېدو) خاوندان د قدرت (د مال) له دوی، او وایي دغه (منافقان): پرېږده مونږ چې اوسو سره د (کور) کېناستونکو (ښځو، هلکانو).

تفسیر: کله چې د قرآنکریم په کوم سورت کې خبرداری ورکول کیږي، چې په پوره اخلاص او په ټینګه ایمان راوړئ ! ښایي د هغه په اثر داسې ښکاره شي چې له نبي صلی الله علیه وسلم سره یو ځای شي ! او د الله تعالی په لاره کې جهاد وکړي ! ؛ نو دغه منافقان تري څنګ کوي، او په دوی کې د توان او قدرت خاوندان هم د دروغو پلمې (تدبیرونه) او بهانې جوړوي، او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اجازه غواړي، چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ! مونږ ته اجازه راکړئ چې همدلته په مدینه کې پاتې شو، ګواکې د ډېرې بې غیرتی او نامردی له امله (وجې)

پر دغه باندې راضي شوي دي چې د جنګ يا د خطرې د نامه له اوربدلو څخه لکه په پرده کې کښاستونکو ښځو غوندې په کورونو کې ننوځي، هر کله چې د جنګ خطر له مینځه لاړ شي، او د اطمینان او آرامۍ وخت راشي؛ نو بیا په خبرو جوړولو کې لکه بیاتي (قیچي) غوندې په ژبه ښوروولو له ټولو ځنې وړاندې وړاندې ځي: ﴿فَإِذَا جَاءَ الْخَوْفُ رَأَيْتَهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ تَدُورُ أَعْيُنُهُمْ كَالَّذِي يُغْشَىٰ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۖ فَإِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ سَلَقُوكُم بِأَلْسِنَةٍ حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ ۚ أُولَٰئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوا فَأَحْبَطَ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا﴾ (۲۱ جزء د الأحزاب سورت (۱۹) آیت (۲) رکوع).

رَضُوا بِأَن يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ﴿٩٣﴾

راضي شول په دې چې وي دوی سره له ښځو پاتې شوو (ښځو، جونو) او مهر لګولی شوی دی په زړونو د دوی (د کُفر او نفاق) نو نه پوهیږي دوی (د جهاد په اجر).

تفسیر: یعنې د دروغو، نفاق، له غزا څخه د ځان ژغورلو (بچ کولو) او د پیغمبر څخه د ښځو پاتې کېدلو له شامته د دوی په زړونو مهر لګولی شوی دی، چې اوس ډېر لوی لوی عیبونه هم هغو ته د عیب په شان نه ښکاري، او د دې په ځای چې په دغه بې غیرتۍ وشرمیږي؛ ناز او خوشالي پرې کوي.

لَٰكِنِ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ جَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۚ وَأُولَٰئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٨٨﴾ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٨٩﴾

لیکن رسول (د الله) او هغه کسان چې ایمان لرونکي دي له ده سره جهاد پې وکړ په مالونو خپلو او ځانونو خپلو، او دغه کسان همدوی لره دي ښېګڼې (فائدې) او دغه کسان همدوی دي په مراد رسیدلي (بریالیان). تیار کړي دي الله دوی ته جنتونه چې بهیږي له لاندې (د مانیو او ونو) د هغو (څلور قسمه) ویالې، تل به وي دوی په دغو (جنتونو) کې، دغه (ننوتل د جنت) بری دی لوی (په نفس او شیطان).

تفسیر: دلته الله تعالی جل جلاله د منافقینو په مقابل کې د مخلصینو بیان فرمایي، چې وګورئ دغه دي د الله تعالی جل جلاله وفادار بندګان چې د پاک الله جل جلاله په لاره کې یې نه په خپل ځان اړ (ایسار) دي، او نه خپل مالونه منع کوي، بلکه له سر او مال دواړو تېر دي، او که هر څومره سخت خطرونه موجود وي، دوی د اسلام حمایت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملګرتیا کوي، او هر ډول قربانۍ او ځان جارولو ته حاضر او تیار دي، نو بیا که د داسې خلقو لپاره فلاح او بری نه وي؛ نو د چا لپاره به وي؟.

وَجَاءَ الْمُعَذِّرُونَ مِنَ الْأَعْرَابِ لِيُؤْذَنَ لَهُمْ وَقَعَدَ الَّذِينَ كَذَبُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ سَيُصِيبُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٩٠﴾

او راغلل د دروغو عذر کوونکي له (صحرایي) اعرابو څخه لپاره د دې چې اذن ورکړ شي (د پاتې کېدلو) دوی ته او کښاستل هغه کسان چې دروغ یې ویلي وو الله ته او رسول د الله ته (په دعوی د ایمان کې)، ژر به ورسیږي هغو کسانو ته چې کافران شوي دي له دوی ځنې عذاب دردناک.

تفسیر: یعنې همغسې چې د مدینې منورې په اوسیدونکو کې منافقان هم شته او مخلصان هم، داسې په کلیوالو ناپوهو اعرابو کې هم هر راز خلق پیدا کیږي، له هغو ځنې یې دلته دوه قسمه ذکر دي، د مخلصینو کلیوالو ذکر د دغې رکوع په پای (آخر) کې په ﴿وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَنْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ﴾ الآیه ـ (۹۹) آیت کې راځي.

دلته د کليوالو د هغو دوو ډلو ذکر دی چې معذّرون او قاعدون دي، د معذرونو د ډلې په مصداق کې د سلفو مفسرينو په منځ کې اختلاف دی، چې آيا له هغو ځنې د دروغو، بهانو او پلمو جوړوونکي منافقين مراد دي (لکه چې له ترجمې څخه ښکاري)، يا په رښتيا سره عذر کوونکي مسلمانان مقصود دي، چې واقعاً د جهاد له ګډون څخه معذور وو.

که ړومبني شق اختيار کړ شي؛ نو په آيت کې به د منافقانو د دواړو قسمونو بيان وي، او معذرون هغه کسان شول چې سره له نفاقه تش د ظاهري رسم او ښودانې لپاره يې په دروغو پلمې او حيلې جوړولې، او له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې اجازې غوښتلې.

او له (قاعدون) څخه به هغه منافقان مراد وي، چې هغو ړومبی د ايمان په دعوی کې دروغ ويل، او بيا يې د ظاهري رسم او د ريايي دستور پروا هم دومره ونه کړه، او د جهاد د نفير (اعلان) د اوريدلو سره هم په خپلو کورونو کې کښاستل، ببباکه او بې حيا شول، او د عذر کولو لپاره هم رانغلل.

نو په دې تقدير سره به ﴿سَيُصِيبُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ د منافقانو دغو دواړو ډلو ته شامل وي، او معنی به يې داسې کيږي: هغه کسان چې له دغو دواړو ډلو څخه په خپل کفر باندې تر آخره قائم پاتې کيږي، دوی ته دردناک عذاب مقرر دی، او هغه کسان چې د توبې توفيق ور په برخه کيږي، تر دغه وعيد لاندې نه راځي.

که له (معذرون) څخه مخلصان مؤمنان مراد شي چې واقعاً معذور وو؛ نو له (قاعدون) څخه به منافقان مراد وي، او د ﴿سَيُصِيبُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ وعيد به يواځې د همدوی په حق کې وي، نو ګواکې د ړومبنی ډلې ذکر به د عذر د قبول په ډول وي.

لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضَىٰ وَلَا عَلَى الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنْفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ ۚ مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِنْ سَبِيلٍ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٩١﴾

نشته په ضعيفانو او نه په رنځورانو او نه په هغو کسانو چې نه مومي دوی هغه (مال) چې يې لګوي دوی (په غزا کې) هيڅ ګناه (له غزا څخه په وروسته پاتې کېدلو کې)؛ کله چې اخلاص کوي دوی له الله او له رسول الله سره (او زړونه يې صاف وي)، نشته په نيکوکارانو هيڅ لاره (د الزام او عتاب) او الله ښه بخښوونکی (د ګناهونو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: له دروغو عذر کوونکو څخه وروسته د رښتينو معذورينو عذر بيانوي، حاصل يې دا دی چې عذر خو کله په شخصي ډول (طريقه) لازم بالذات وي، مثلا لکه د زړښت کمزوري چې عادتاً په هيڅ صورت له سړي څخه نشي بېلېدې، او کله عارضي يا بدني وي، لکه ناجوړتيا او نور، يا مالي وي لکه افلاس او د سفر د اسبابو نشتوالی، څرنګه چې د تبوک په غزا کې مجاهدين ډېر لرې او اوږده سفر ته تلل، او په جبري ډول سره يې هلته خپل ځانونه رسول، نو ځکه د سورلی د نشتوالي عذر هم معتبر او معقول ګڼل کېده، لکه چې وروسته يې ذکر راځي.

وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوْا وَأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ ﴿٩٢﴾

او نشته (ګناه په پاتې کېدلو له غزا نه) په هغو کسانو کله چې راغلل دوی تاته لپاره د دې چې سورلی ورکړې ته دوی ته؛ نو وويل تا ورته چې: نه مومم زه (هم اوس) هغه شی چې سواره کړم تاسې په هغه نو بېرته وګرځېدل دوی، حال دا چې سترګې د دوی بهېدې (يعنې تويولې) له اوښکو؛ له جهته د غمه له دې وجې چې نه مومي دوی هغه څه چې يې ولګوي (په جهاد کې).

تفسير: په صحيح حديث کې راغلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د (تبوک) مجاهدينو ته وويل: «تاسې په مدينه کې داسې يو قوم پرېښې دی، چې له تاسې سره د هر قدم په اجر او ثواب کې شريک دي، هر هغه قدم چې تاسې د الله تعالى جل جلاله په لاره کې اخلئ، يا له کومې بيديا څخه تېرېږئ، يا چې په کومه لوړه خېژئ، يا کومې ژورې ته ښکته کېږئ؛ نو هغه قوم په دغو ګردو مواقعو کې له تاسې سره ملګري او يو ځای دي، دا هغه خلق دي چې د حقيقي مجبوريتونو له امله (وجې) ستاسې له ملګرتوبه بېرته پاتې شوي دي»، د «حسن رحمه الله» په (مرسل) کې د دغه مضمون له بيان څخه وروسته رسول الله صلى الله عليه وآله وصحبه وسلم د همدغه آيت تلاوت کړی دی: ﴿وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ﴾ الآيه.

إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَاءُ رَضُوا بِأَنْ يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطَبَعَ اللَّهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٩٣﴾

خبره همدا ده چې لاره د ملامتۍ په هغو کسانو ده چې اذن (د بېرته پاتې کېدلو) غواړي له تا نه حال دا چې دوی غنيان وي، راضي شول په دې چې وي دوی (ناست) سره له بېرته شوو (ښځو، جونو) او مهر لګولی دی الله په زړونو د دوی؛ نو دوی نه پوهيږي (په خپلې بدې خاتمې).

تفسير: يعنې له قدرت او وس سره له جهاد څخه څنګ کوي، او په ډېره بې غيرتۍ دغه شرم او عار په ځان اخلي، د ښځو په شان په کور کې ناست باهوګان په لاس کوي، په تل او همېشه ګناه کولو سره د انسان زړه داسې مسخ او توريږي، چې په کې د ښو او بدو عيب او هنر، پوهه او تميز نه پاتې کيږي، کله چې د ډېرې بېشرمۍ او بې عزتۍ له سببه کوم انسان په دغې اندازې ليونی او پاګل شي، چې د ندامت او تأسف په ځای بالعکس په ګناه فخر کوي او خوښيږي، نو دلته ښايي وپوهېږئ چې د ده په زړه باندې د الله تعالى جل جلاله مهر لګېدلی دی ـ العياذ بالله.

يَعْتَذِرُونَ إِلَيْكُمْ إِذَا رَجَعْتُمْ إِلَيْهِمْ قُلْ لَا تَعْتَذِرُوا لَنْ نُؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّأَنَا اللَّهُ مِنْ أَخْبَارِكُمْ وَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٤﴾

عذرونه به کوي دغه (منافقين) تاسې ته (د پاتې کيدلو خپلو د غزا نه) کله چې بېرته راوګرځئ تاسې دوی ته، ووايه (ای محمده !) مه کوئ دا عذرونه (د دروغو مونږ ته) له سره به باور ونه کړو په تاسې مونږ، په تحقيق خبر کړي يو مونږ الله له احوالو ستاسې، او ژر به ووينې الله عملونه ستاسې او رسول د ده (به هم ووينې چې له خپل نفاقه راوګرځئ که نه ګرځئ)، بيا به بېرته بوتلی شئ تاسې (په قيامت کې هغه) عالم د پټو او ښکاره وو (الله) ته، نو خبر به درکړي تاسې ته په هغو کارونو چې وئ تاسې چې کول به مو (له اخفاء د نفاق او اظهار د وفاق).

تفسير: يعنې لکه چې د «تبوک» د تلو په وقت کې منافقينو راز راز (قسم قسم) حيلې او پلمې (بهانې) جوړولې، کله چې تاسې مدينې ته راستانه شئ؛ نو هلته به هم دغه منافقين هم داسې باطل عذرونه دروړاندې کوي، او غواړي چې تاسې مطمئن او ډاډه کړي، او قسمونه به خوري چې: «يا رسول الله ! ځمونږ نيت همدا وو چې له تاسې سره لاړ شو، مګر هغه او دغه موانع او عوائق راوړاندې شول، دلته مجبوراً پاتې شو».

تاسې هغوی ته ووايئ چې: د دروغو جوړولو هيڅ فائده نشته، ستاسې دغه عذرونه لغو، چټې او بېکاره دي، مونږ د الله تعالى له جانبه ستاسې پر دغه کذب او نفاق خبر او مطلع کړی شوي يو، نو ستاسې پر دغو لغوياتو او چټې (بېکاره)

خبرو څرنګه باور کولی شو؟، وروسته له دې نه به ستاسې طرز عمل ولید شي، چې تاسې دغه خپله دعوی تر کومې اندازې پورې تر پای رسولی شئ؟ آیا دغه ټول دعاوی به په رښتینې صورت سره ظاهریږي او که نه؟ په هر حال د هغه ﴿عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ﴾ څخه ستاسې هیڅ یوه پټه خبره او عمل یا نیت پټ پاتې کېدی نشي، د الله تعالی حضور ته د خلقو ورتګ دی، او د جزا ورکولو په وخت کې ستاسې د هر ورځې او لوی او ظاهري عمل هغه په ښکاره ډول سره درظاهروي، او د هغه سره موافق به تاسې ته معامله او جزا سزا به درکړل شي.

سَيَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمْ إِذَا ٱنقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوا۟ عَنْهُمْ ۖ فَأَعْرِضُوا۟ عَنْهُمْ ۖ إِنَّهُمْ رِجْسٌ ۖ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿٩٥﴾

ژر به قسمونه خوري دوی پر الله تاسې ته کله چې بېرته راشئ تاسې دوی ته لپاره د دې چې څنګ وکړئ تاسې له (عتاب د) دوی نه، نو څنګ وکړئ تاسې له دوی نه (په ترک د عتاب سره)، بېشکه چې دوی پلیت دي، او ځای د ورتلو د دوی جهنم دی، لپاره د جزا ورکولو په هغو کارونو چې وو دوی چې کول به یې.

تفسیر: د «تبوک» د غزا نه بېرته راتلو په وقت کې به منافقینو د دروغو قسمونه خوړل، او له هغو دروغو پلمو (تدبیرونو) او حیلو جوړولو څخه د دوی دغه غرض وو، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانان پخپلو قسمونو او ملمع ویلو سره راضي او مطمئن کړي، چې د رسالت له درباره پر دوی باندې څه عتاب او ملامتیا او پوښتنه عائده نشي، او د پخوا په شان همداسې معامله په ابهام کې پټه پاتې شي، او مسلمانان له هغو سره څه تعرّض ونه کړي.

حق سبحانه وتعالی فرمایي چې دغه بهتر دی چې تاسې له هغو سره څه تعرّض مه کوئ ! لیکن دغه اغماض او تغافل پر دغه بنا نه دی، چې مسلمانان له هغوی ځنې راضي او مطمئن دي، بلکه د دوی د نهایت پلیتی او شرارت لامله دی، دغه خلق دومره نجس او پلیت واقع شوي دي، چې د هغوی د پاکی او صفایی هیڅ توقع نشي کېدی.

يَحْلِفُونَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا۟ عَنْهُمْ ۖ فَإِن تَرْضَوْا۟ عَنْهُمْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يَرْضَىٰ عَنِ ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٩٦﴾

قسمونه خوري دغه منافقان تاسې ته لپاره د دې چې راضي شئ تاسې له دوی نه، نو که راضي شئ تاسې له دوی نه؛ نو بېشکه الله نه راضي کیږي له فاسق قومونو نه.

تفسیر: دمنافقینو لوی کوښښ په دې کې دی؛ چې په مکر، فریب او کذب سره مسلمانان له خپلو ځانونو څخه خوښ او خوشال کړي، فرض یې کړئ که په چل او فریب او بهانو سره مخلوق راضي شي؛ نو له هغه ځنې څه فائده در رسېدی شي؟ کله چې پاک الله له ده څخه راضي نه وي.

که له دوی سره د تغافل او اعراض معامله شوې ده؛ نو دغه اغماض له سره د دې خبرې دلیل کېدی نشي، چې مسلمانان له منافقانو څخه خوشال او مطمئن هم دي.

ٱلْأَعْرَابُ أَشَدُّ كُفْرًا وَنِفَاقًا وَأَجْدَرُ أَلَّا يَعْلَمُوا۟ حُدُودَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٩٧﴾

ځینې له صحرایي اعرابو ډېر سخت دي له جهته د کفره، او له جهته د نفاقه (له ښاریانو نه) او ډېر لایق دي له دې سره چې پوهه نشي دوی په حدودو د هغو (احکامو) چې نازل کړي دي الله پر رسول خپل، او الله ښه عالم دی ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

تفسير: تر دې ځای پورې د مدينې منورې د منافقينو او د مخلصينو احوال بيان شو، اوس د کليوالو صحرائيانو د څه حال ذکر فرمايي چې: په دوی کې هم څو ډوله خلق دي: کفّار، منافقين، مخلصين مسلمانان، څرنګه چې د کلي او سيدونکي په قدرتي ډول سره عموماً تندخوی او سخت مزاج وي، (لکه په حديث کې راغلي دي: «من سکن البادية جفا»)، او د علم او د حکمت د مجالسو ځنې د لريوالي لامله د تهذيب او تمدّن اثر او د علم او عرفان رڼا ډېره لږه قبلوي، نو د هغوی کفر او نفاق د ښارونو د کفّارو او منافقينو څخه ډېر سخت دی.

د اعرابو د بې رحمی او غټ زړه توب ذکر په متعددو احاديثو کې راغلی دی، په يو حديث کې دي، چې يوه اعرابي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه: «تاسې له هلکانو (پچو) سره مينه او محبت هم کوئ؟، په الله قسم چې مونږ هيڅ کله له خپلو هلکانو سره مينه او محبت نه کوو !»، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «زه څه وکړم چې پاک الله ستا له زړه څخه خپل رحمت ايستلی دی»؟ .

﴿وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾ : «او الله ښه عالم دی په ټولو احوالو ښه حکمت والا چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي»، يعنې د الله تعالى علم د بني آدمانو پر ګردو طبقاتو محيط دی، او دی سم له خپله حکمته د هرې طبقې سره د دوی د استعدادو او قابليتونو سره موافقه معامله کوي.

وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَنْ يَتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ مَغْرَمًا وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ الدَّوَائِرَ ۚ عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٩٨﴾

او ځينې له (صحرايي) اعرابو هغه دي چې نيسي هغه شی چې لګوي (يې په لار د الله کې) محض يو تاوان، او انتظار کوي په تاسې د ګردشونو د زمانې ، پر هم دوی دې وي ګردش د بدۍ (نه په تاسې)، او الله ښه اوربدونکی دی (د ټولو اقوالو) ښه عالم دی (په ټولو احوالو).

تفسير: يعنې په «منافقينو اعرابو) کې هغه خلق هم شته چې کوم وقت د الله تعالى په لاره کې څه شی ولګوي؛ نو په داسې کراهيت سره يې لګوي، لکه چې دوی کومه جرمانه ورکوي يا تاوان ګالي، دوی تر اوسه پورې هم منتظر دي ؛ چې مسلمانان د دهر په حوادثو کې په کوم ګردش او آفت کې مبتلا او اخته شي، او له دغو تاوانونو څخه خلاص شو، او په دې نه دي خبر چې پخپله د دوی په قسمت کې ګردشونه راتلونکي دي، اسلام خو تل غالب او فائق اوسيږي، او دغه منافقان ډېر سخت ذليل او رسوا کېدونکي دي، الله تعالى د هر يوه خبرې او دعاوې اوري، او ښه ورته معلوم دي چې کوم يو د عزت او د بري اهل دی؟ او کوم يو د ذلت او رسوايۍ وړ او مستحق دی؟ .

وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَنْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ قُرُبَاتٍ عِنْدَ اللَّهِ وَصَلَوَاتِ الرَّسُولِ ۚ أَلَا إِنَّهَا قُرْبَةٌ لَهُمْ ۚ سَيُدْخِلُهُمُ اللَّهُ فِي رَحْمَتِهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٩٩﴾

او ځينې له (صحرايي) اعرابو څخه هغه دي چې ايمان لرونکي دي په الله او په ورځې آخرې او نيسي (ګڼې ـ شمېرې) هغه شی چې لګوي (يې په لاره د الله کې) (اسباب) د نژدېوالې په نزد د الله او (سبب د) دعاګانو د رسول، خبردار شئ چې دغه (خرچ کول سبب د) نژدېوالي دی د دوی، ژر به داخل کړي دوی الله په رحمت خپل کې، بېشکه چې الله ښه مغفرت کوونکی ډېر مهربان دی.

تفسير: دلته يې د قرآن کريم معجزانه تأثير او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د حيرت غورځوونکو تعليماتو نندارە راښوولې ده، چې په همدغه ځيرو مزاجو، غټ زړو، تندخويو او بې لارو کليوالو او صحرائيانو کې چې د کفر او نفاق، جهل او طغيان لامله د دې خبرې له سره لايق او وړ نه وو، چې د الله تعالى په ښوولو آدابو باندې وپوهېدی شي.

د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د تعليمه او د قرآن عظيم له غږ او تفهيمه په دوی کې داسې عارفان او مخلصان مسلمانان پيدا شول؛ چې پر مبدأ او معاد او نورو ګردو مؤمن به شيانو ايمان لري، او د پاک الله په لاره کې هر شی چې لګوي؛ خالص د الله تعالى د قرب د حاصلولو او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دعا د ګټلو په غرض يې کوي، الله تعالى دوی ته زېرى او بشارت ورکوي، چې بېشکه دوی په دغو خپلو اميدونو او هيلو (ارزوګانو) کې حق بجانب دي، يقيناً دوی ته همغه شی ور په برخه کيږي، چې د هغه نيت يې پخپلو زړونو کې کړی وي (يعنې د الله تعالى قُرب)، او پاک الله جل جلاله خامخا دوی په خپل رحمت کې داخلوي.

پاتې شوه د رسول الله صلى الله عليه وسلم دعا، هغه خو دوی پخپلو غوږونو سره اوري، او پخپلو سترګو يې ګوري، چې هر کله کوم سړی ښه کار کوي، او سم له اسلامي احکامو سره زيار او کوښښ کوي، يا صدقات او نور خيرات ورحاضروي؛ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم دهغو په حق کې دعا کوي، د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دغې دعاء ثمره هم همغه د الله تعالى رحمت او تقرّب دی، چې د هغه وعده لا له پخوا څخه شوې ده.

وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٠٠﴾

او هغه وړاندني اولني (ايمان لرونکي) له مهاجرينو نه او له انصارو نه او هغه کسان چې متابعت يې کړی دی د هغوی په احسان (نېکۍ) سره؛ راضي شوی دی الله له دوی نه، او راضي شوي دي دوی له الله نه، او تيار کړي دي الله دوی ته جنتونه چې بهيږي لاندې د (ونو او مانيو د) دوی ويالې، چې تل به وي دوی په هغو کې همېشه، دغه (رضا او جنت) برى دی ډېر لوی.

په تفسير: د «أعرابو مؤمنانو» د ذکر څخه وروسته دا مناسبه معلومه شوه، چې د مؤمنينو د زعماوو، أعيانو او مشرانو څه ذکر هم وکړ شي، يعنې هغه مهاجرين چې په هجرت کې يې د سبقت او اوليت شرف حاصل کړی دی، او هغه انصار چې په نصرت او اعانت کې د سبقت او اوليت افتخار لرونکي دي، الغرض هغو کسانو چې د حق په قبوليت، او د اسلام په خدمت کې هومره چې دتقدم او وړاندې والي حصه او برخه اخيستې ده، بيا هغه خلق چې له ښو کارونو او حسن نيت د اسلام د دغو مقتديانو متابعت او پيروي کوي؛ همدغو ته درجه په درجه د الله تعالى رضا او خوښي او حقيقي برى حاصل شوی دی، همغسې چې هغوی په پوره خوښۍ او خوشالۍ او د قلب په انشراح سره د الله تعالى د تشريعي احکامو او تکويني قضاوو په مقابل کې خپلې غاړې ږدي؛ په همغه ډول الله تعالى هم دوی ته د خپلې خوښۍ او رضا سند ورعطا کوي، او په غير محدود انعام او اکرام يې سر لوړوي.

وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ مُنٰفِقُوْنَ ۛ وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ۛ مَرَدُوْا عَلَي النِّفَاقِ ۡ لَا تَعْلَمُهُمْ ۭ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ۭ سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّوْنَ اِلٰى عَذَابٍ عَظِيْمٍ ﴿١٠١﴾

او ځينې له هغو کسانو چې په شاوخوا د تاسې (اهل المدينې) کې دي له صحرايي اعرابو ځنې منافقان دي، او ځينې له مدينې والاوو نه کلک دي په منافقت باندې؛ نه پېژنې ته دوی لره، مونږ پېژنو دوی لره، ژر به عذاب کړو مونږ دوی دوه کرته، بيا به بوتلل شي دوی عذاب ډېر لوی ته.

تفسير: يعنې ځينې له اهل المدينې او دهغې د شاوخوا ساکنين په نفاق سره عادي او روږدي شوي دي، او پر هغه ټينګ ولاړ دي، ليکن دغه نفاق دومره غريق او عميق دی؛ چې سره له دغه قرب مکاني او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د کمال فطانت او فراست هم تاسې بالتعيين او په قطعي طور سره په محض علاماتو او قرائنو سره د هغو پر نفاق نشې مطلع

کېدی، د هغو په پوره ډول سره تعیین او معلومول یواځې د الله تعالی په علم کې شته، څرنګه چې د عامو منافقینو پته او سراغ له څېرو، شونډو، لهجو، خبرو اترو او نورو څخه موندل کیږي؛ ﴿وَلَوْ نَشَآءُ لَأَرَيْنَٰكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُم بِسِيمَٰهُمْ ۚ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِى لَحْنِ ٱلْقَوْلِ﴾ د دوی نفاق دومره ژر او عمیق دی، چې له هسې ظاهري علائمو سره د دوی پرده نه لري کیږي.

﴿سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ﴾ الآیه - «ژر به په عذاب کړو مونږ دوی دوه کرته بیا به بوتلل شي عذاب ډېر لوی ته چې هغه لوی عذاب د دوزخ دی: ﴿إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِى ٱلدَّرْكِ ٱلْأَسْفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ﴾ (۶ جزء د النساء سورت (۱۴۵) آیت (۲۱) رکوع) پخوا له هغه لږ تر لږه خامخا دوه ځلې په عذاب کې مبتلا کیږي، یو د قبر عذاب او دویم هغه عذاب چې په دغه دنیوي ژوندون کې ور رسیدونکی دی، ځنې له دوی څخه په لوږې او نورو ارضي او سماوي آفتونو کې مبتلا شوي، د ذلت په مړ ک سره مري، یا د اسلام د ترقي او عروج د لیدلو څخه د حسد او رخې (کینې) او غیظ په اور کې سوځي، او غاښونه او ګوتې سره چیچي، چې هغه هم د دوی په حق کې د روح د سوان په شان وو.

ځما په نزد دغه ټول اقسام عذاب د ﴿مَّرَّتَيْنِ﴾ په احاطه کې داخل دي، او دغه عدد یا خو د مطلق تعداد لپاره دی لکه په: ﴿ثُمَّ ٱرْجِعِ ٱلْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ﴾ کې، یا له دوو ځلې څخه نوعي اثنینیت مراد دی، یعنې «عذاب القبر» او د «قبل الموت» عذاب، والله أعلم.

وَءَاخَرُونَ ٱعْتَرَفُوا۟ بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا۟ عَمَلًا صَٰلِحًا وَءَاخَرَ سَيِّئًا ۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٠٢﴾

او ځینې نور دي چې قائلان شوي دي په ګناهونو خپلو، ګډ کړي دي دوی نېک عمل، او بل بد عمل، قریب دی چې الله به رجوع وکړي په دوی باندې (په قبول د توبې)، بېشکه چې الله ښه بخښونکی د خطیاتو ډېر رحم کوونکی دی پر تائبانو.

تفسیر: په اهل المدینه کې که له یوه لوري دغه منافقین او متمردین دي چې خپل شرارتونه او جرمونه او نفاق په پرده کې پټوي، او په هغوی باندې په سختۍ سره ولاړ دي، نو د بل لوري ځینې هغه مسلمانان دي چې له هغو ځنې د بشریت په مُقتضی که کومه خطا او قصور واقع کیږي؛ نو نادمان کیږي او بلا تأمّل پخپلو ګناهونو اقرار کوي، د دوی نیکي او بدي سره ګډوډ دي، بدي خو مثلاً دغه ده، چې سره د (جهاد) د عام نفیر د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دعوت د «تبوک» غزا ته حاضر نشول، بیا په دغه غیر حاضرۍ باندې له زړه پښېمانېدل او متأسف کېدل او ظاهراً او باطناً توبه ایستل او د نورو صالحه وو اعمالو لکه لمونځ، روژه، زکات، حج یا په نورو غزواتو کې شرکت او نور په ځای راوړل، دغه ټول د دوی د نېکیو په فهرست کې داخل دي؛ نو داسې حضراتو ته الله تعالی د معافۍ امید ورکړی دی.

مفسرینو لیکلي دي چې دغه آیت د «أبو لبابة رضي الله تعالی عنه» او د ده د څو نورو ملګرو په حق کې نازل شوی دی، چې محض د کسل لامله «تبوک» ته حاضر نه شول، لیکن کله چې د «تبوک» نه د پاک رسول صلی الله علیه وسلم د بېرته راتګ څخه خبر شول، نو په ډېر ندامت او افسوس سره دوی ټولو خپل ځانونه د مسجد تر ستنو پورې کلک وترړل، او ګردو قسم سره یاد کړ، تر څو چې مو رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپل مبارک لاس خلاص نه کړي؛ مونږ به هم داسې کلک ترلي ولاړ اوسو، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی په داسې حال کې ولیدل؛ نو ویې فرمایل: «والله تر څو چې الله تعالی د دوی د پرانیستلو حکم رانکړي؛ زه یې نشم پرانیستلی»، بالآخر دغه آیت نازل شو؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو غوټې وپرانیستلې او د توبې د قبول بشارت یې ورکړ، وایي چې دغه کسان له خلاصېدو څخه وروسته د توبې د تکمیل په ډول له څه اموالو سره حاضر شول، چې د الله تعالی په لاره کې یې تصدق کړي، نو په دې مناسبت دغه وروستنی آیت نازل شو.

خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً

واخله (ای محمده !) له مالونو د دوی صدقه (زکات یا خیرات).

تفسیر: محقق شیخ الهند د «صدقې» ترجمه په «زکات» سره کړې ده، لیکن که د «صدقې» لفظ عام واخیستل شی، چې «زکات» او نورو نافله وو صدقاتو لره هم شامل شي؛ نو ښه به وي، ځکه چې له اکثرو روایتونو سره سم دغه آیت د هم هغو سړیو په حق کې نازل شوی دی، چې وروسته له معافی د توبې د تکمیل په ډول له صدقاتو سره حاضر شوي وو، لکه چې اوس په ډومبنی فائده کې نقل شوي دي.

تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٣﴾

چې ښه پاک کړې ته دوی له ګناهونو او بابرکته کړې ته دوی د هغه په وسیله، او دعا (د نېکۍ) وکړې دوی ته، بېشکه چې دعا ستا تسکین دی دوی ته، او الله ښه اورېدونکی (د ټولو اقوالو) ښه عالم دی (په ټولو احوالو).

تفسیر: په «توبه» سره ګناه معافیږي، یعني مؤاخذه د عذاب نه پرې پاتې کیږي، لیکن یو قسم باطني کدورت او ظلمت او نور (چې د ګناه د طبیعي اثراتو څخه ده) ممکن دي پاتې وي، چې بالخصوص له صدقې او عموما د حسناتو په کولو سره زائله کیږي، نو په دې لحاظ سره ویلی شو چې: صدقه دګناهونو له اثراتو څخه سړی بیخي پاک او صاف ګرځوي، او د اموالو برکت زیاتوي.

أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَيَأْخُذُ الصَّدَقَاتِ وَأَنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾

آیا نه پوهېدل دغه (تائبان) په دې چې بېشکه الله هم دی قبلوي توبه له بندګانو خپلو او اخلي، قبلوي صدقات او (نه پوهیږي په دې چې) بېشکه الله هم دی ښه توبه قبلوونکی ښه رحم کوونکی دی.

تفسیر: یعني د توبې او د صدقاتو قبلول یواځې د الله تعالی په اختیار کې دي، ځکه چې همغه ته ښه معلوم دي، چې کوم یوه د زړه په اخلاص او د قبول د شرائطو له رعایته سره سمه توبه ایستلې، یا صدقه یې ورکړې ده، لکه چې پخوا له دې نه پر ځینو باندې عتاب صادر شوی دی، او د همېشه لپاره د دوی د صدقاتو منل مردود درولي شوي دي، او د دوی په حق کې دعا او استغفار هم بې فائدې ښوولی شوی دی، بلکه د دوی جنازه کول هم ممنوع ګرځولی شوي دي، د دغو کسانو ذکر چې دلته کړی شوی؛ د هغو توبه یې منظوره او د صدقاتو د قبولیت حکم یې ورکړ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی په حق کې (حیّاً او میّتاً) دعا وکړې.

وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ ۖ وَسَتُرَدُّونَ إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٠٥﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) عمل کوئ تاسې ! نو ژر به ووینې الله عمل ستاسې او رسول د ده (به یې هم ووینې) او مؤمنان (به یې هم ووینې)، او ژر به بیا بوتلی شئ تاسې (په بعث سره) عالم د پټو او ښکاره وو (الله) ته؛ نو خبر به کړي (الله پاک) تاسې په هغه سره چې وئ تاسې چې کول به مو.

تفسير: يعني په توبه او نورو شيانو سره ستاسې تېر تقصيرات معاف شول، وروسته به وليدل شي چې تاسې تر کومه ځای پورې د صدق او استقامت عملي ثبوت راوړاندې کوئ؟ که په دغه جهاد کې له تاسو څخه قصور صادر شوی دی، وروسته له دې نه نور جهادونه هم کېدونکي دي، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د راشدينو خلفاوو په مخ کې به له تاسې څخه امتحان واخيستل شي، او وبه کتل شي، چې تاسې څه ډول عمل کوئ؟ بيا به په قيامت کې له پاک الله سره مخامخ کېږئ، او د خپل د هر عمل پوره بدل به وموميئ، ځکه چې همغه پر ګردو پټو او ښکاره وو شيانو او ظاهري اعمالو او باطني نياتو باندې خبردار او مطّلع دی، او له هر يوه سره د ده د واقعي حالت سره موافق معامله کوي.

وَآخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللَّهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠٦﴾

او نور کسان دي (له دغو پاتې شويو له غزا نه) چې وروسته کړی شوي دي لپاره د حکم کولو د الله په دوی کې؛ يا به په عذاب کړي وی يا به مهرباني وکړي پر دوی د توفيق د توبې، او الله ښه عالم دی، ښه حکمت والا دی.

تفسير: د اهل المدينې څخه دلته د يوه وړوکي جماعت ذکر فرمايي، اصلي خبره دا ده چې د «تبوک» د غزوې متخلفين يعنې هغه کسان چې په «تبوک» کې نه وو شريک شوي؛ درې قسمه وو:

(١): منافقين چې د شک او نفاق لامله ببل پاتې شوي وو، (٢): هغه کسان چې د سستۍ او ځان هوسايۍ (آرامۍ او آسانتيا) لامله په غزا کې نه وو شريک شوي، بيا دوی کې هم دوه قسمه سړي وو، على الأكثر هغه کسان وو چې د پاک رسول الله صلى الله عليه وسلم د ببرته راتللو په وقت کې دوی خپل ځانونه د مسجد په ستنو پورې تړلي وو، چې د هغو ذکر په پخوانيو آيتونو کې تېر شو، يوائې يو جماعت د درې سړيو داسې وو، چې نه دوی خپل ځانونه په ستنو تړل، او نه کوم عذر او بهانه يې وروړاندې کړه، او يوائې همغه حقيقي واقعه يې بې له تزييده او تنقيصه په صافو صافو الفاظو د رسول الله په مخ کې عرض وکړ، نو د دوی په باره کې دغه د ﴿وَآخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللَّهِ﴾ آيت نازل شو، يعنې د دوی په معاملې کې اوس تعطيل او انتظار دی، تر څو ورځو پورې د پاک الله حکم ته منتظر اوسئ، يا به الله تعالى هغو ته سزا ورکوي يا به يې بخښي او معافوي به يې، د دغو واقعاتو او د درې واړو نومونو تفصيل د وروستنۍ رکوع په خاتمه کې شروع کيږي.

وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَكُفْرًا وَتَفْرِيقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ مِن قَبْلُ ۚ وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا الْحُسْنَىٰ ۖ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿١٠٧﴾

او ځينې هغه (منافقان) دي چې نيولې (جوړ کړی) دی دوی مسجد لپاره د ضرر رسولو (مؤمنانو ته) او لپاره د کفر او لپاره د بيلتون آچولو په منځ د مؤمنينو کې او لپاره د انتظار (او مورچه) لپاره د هغه چا چې جنګ يې کړی دی له الله سره او د هغه له رسول سره پخوا (له دې نه)، او خامخا قسمونه خوري هرومرو دوی چې اراده نه ده کړې مونږ (په جوړولو د مسجد سره) مګر د نېکۍ، او الله شاهدي اداء کوي چې بېشکه دوی هرومرو دروغجنان دي (په دغو خپلو قسمونو کې).

تفسير: دلته د داسې يوه جماعت ذکر دی، چې په ښکاره سره هغوی ښه کار (تعمير د مسجد) کړی دی، ليکن د بد اعتقادۍ لامله هغه د دوی د ځان وبال وګرځېده.

دغه واقعه داسې وه، کله چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم له مکې څخه هجرت وکړ، نو د مدينې څخه د باندې د «بني عمرو بن عوف» په محلي کې يې واړول، او هلته يې د مسجد قباء بنياد کېښود، او څو ورځې وروسته يې د

مدينې منورې ښار ته تشريف راوړو، او نبوي مسجد يې تعمير کړ، او رسول الله صلى الله عليه وسلم به هر خالي (شنبه) د مسجد قباء زيارت ته تللو، او دوه رکعته لمونځ به يې کاوه، او د هغه ډېر فضائل يې بيان کړه.

کله چې اسلام ورو ورو په مدينه منوره کې قوي کېده؛ نو د هغه ځای منافقينو به د اسلام په ضد تخريب کولو لپاره رنګارنګ توطئې او پروګرامونه جوړول، يو د دغو څخه دا وو، چې ځنې منافقينو د أبو عامر الراهب په اشاره د مسجد قباء نژدې يوه بله ودانۍ د مسجد په نامه جوړه کړه، او غوښتل يې چې خپل جماعت سره ببل کړي، او په دې چال کې يې ځنې ناپوه او ساده مسلمانان د مسجد قباء څخه خپلو ځانونو سره مل کړي وه.

نو منافقينو د خپلو خبيثو مقاصدو لپاره د قُباء مسجد په مقابل کې د ضرار مسجد ودان کړ، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مخ کې داسې بهانه وکړه، چې ځمونږ نيتونه بد نه دي، خو د باران او يخنۍ او رنځورانو له امله چې د قباء تر مسجد پورې ورته تګ ډېر سخت او مشکل دی؛ نو ځکه مو دغه مسجد ودان کړ، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې هلته د يو ځل لمونځ کولو لپاره د ورتلو خواهش وکړ، رسول الله صلى الله عليه وسلم چې په دغه وخت کې د (تبوک) غزا ته د تللو لپاره تياری کړی وو؛ نو هغوی ته يې وويل: که الله تعالى اراده وکړي، نو د (تبوک) نه د بېرته راتګ په وخت کې به درشم.

نو کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د (تبوک) د غزا څخه فارغ شو، او مدينې ته نژدې شو؛ نو جبرئيل عليه السلام دا آيت راوړه، چې په دې يې رسول الله صلى الله عليه وسلم د منافقينو په ناپاکو اغراضو باندې مطلع او خبر کړ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو ته حکم ورکړ، چې ډېر ژر دغه ظالم مسجد ته ورشي، او اور ورته واچوي، او د خاورو سره يې خاورې کړي، نو هغوی على الفور اور ورته کړ، او د خاورو سره يې خاورې کړ، په دې ډول د منافقينو او د فاسق أبو عامر ټول ارمانونه د دوی په زړونو کې غوټه پاتې شول.

په دې آيت کې د ﴿لِّمَنْ حَارَبَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ﴾ څخه دغه فاسق ابو عامر مراد دی.

لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا ۚ لَّمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَىٰ مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِ ۚ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا ۚ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ ﴿١٠٨﴾

مه درېږه ته په دغه (مسجد کې لپاره د لمانځه) له سره هيڅکله، خامخا هغه مسجد چې اينبی شوی دی (تاداو ـ بنياد يې) پر تقوی (پرهېزګاری)؛ له اولې ورځې ډېر لايق د دې دی، چې ودرېږې ته په هغه کې (لپاره د لمانځه)، په دغه (مسجد) کې داسې سړي دي چې خوښوي دوی دا چې ښه پاک وساتي دوی (ځانونه خپل د ګناهونو او نجاساتو نه)، او الله محبت کوي د ښه ځان پاکوونکو سره.

تفسير: يعنې «په دغه مسجد کې چې د هغه تاداو (بنياد) محض په ضد، کفر، نفاق او د اسلام په عداوت او د الله تعالى او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مخالفت باندې اينبی شوی دی، تاسې له سره د لمانځه لپاره مه درېږئ»، ستاسې د لمانځه وړ هغه مسجد دی، چې د هغه تاداو (بنياد) له اولې ورځې راهيسې پر تقوی او پرهېزګاری قائم شوی دی (اعم له دې چې نبوي مسجد وي که د قباء مسجد وي)، چې د هغو لمونځ کوونکي له هر راز ظاهري او باطني نجاستونو او ګناهونو او شرارتونو څخه د خپلو ځانونو د پاکولو او صاف ساتلو اهتمام کوي، نو ځکه پاک الله هم دوی سره محبت کوي.

په حديث کې راغلي دي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د اهل قباء څخه پوښتنه وکړه چې: «تاسې د طهارت او پاکيزه ګۍ څه خاص اهتمام کوئ چې پاک الله ستاسې د تطهير مدح فرمايلې ده؟» دوی وويل چې: «مونږ وروسته

د لوټې د استعمالولو ځخه په اوبو سره هم استنجاء کوو»، یعنې له عمومي ظاهري او باطني طهارت ځخه برسېره دغو خلقو د دې شي اهتمام د عادت ځخه زیات کاوه، له دې نه ظاهریږي چې په دغه آیت کې د قباء د مسجد ذکر دی، لیکن په ځینو نورو روایتونو کې بالتصریح راغلي دي چې د ﴿لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَىٰ﴾ ځخه نبوي مسجد مراد دی، په دې اساس په دواړو مسجدونو باندې دغه صفت صادق دی.

أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ تَقْوَىٰ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ أَمْ مَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿١٠٩﴾

آیا نو هغه ځوک چې ایښی یې وي تاداو د ودانۍ خپلې پر تقوی (وېرې) باندې له الله ځخه، او په رضامندۍ (د الله سره) غوره دی، یا هغه ځوک چې ایښی یې وي تاداو د ودانۍ خپلې په غاړې د کندې نړېدونکې باندې؛ نو ونړېږي سره له جوړوونکي په اور د دوزخ کې؟ او الله نه ښیي سمه صافه لاره قوم ظالمانو ته.

تفسیر: یعنې د هر هغه کار تاداو او بنیاد چې په تقوی، یقین، اخلاص او د الله تعالی پر رضا غوښتلو باندې وي، هغه ډېر مستحکم او ټینګ وي، په خلاف د هر هغه کار چې بنا یې په شک، نفاق، مکر، خداع او فریب باندې وي، هغه د خپلې ناپایداری، سستۍ او بد انجامۍ په لحاظ داسې دی لکه چې کوم عمارت د یوه داسې خاورین پاڼ په سر باندې ولاړ وي، چې د رود اوبو د هغه بیخ بیخي وړی وي، چې که لږ شانې دغه په یوه ویښته ولاړ پاڼ وخوځېږي، یا د سیلاب کومه چپه وروړسېږي؛ نو دغه عمارت سره له پاڼه یو ځای لاندې په اوبو کې لویږي، او بالآخر د دوزخ کندې ته وررسېږي.

لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِي بَنَوْا رِيبَةً فِي قُلُوبِهِمْ إِلَّا أَنْ تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١١٠﴾

همېشه به وي مانۍ ـ ابادۍ د دوی هغه چې جوړه کړې وه دوی موجب د شبهې، د شک او د نفاق په زړونو د دوی کې، مګر چې ټوټې ټوټې شي زړونه د دوی (یعنې مړه شي)، او الله ښه عالم دی، ښه حکمت والا دی (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

تفسیر: د «ریبت» ترجمه یې په «شبهه» سره کړې ده، چې له هغې ځخه مراد نفاق دی، یعنې د دغه بد عمل اثر داسې شو؛ چې تل د هغو په زړونو کې (تر هغه پورې چې مړکې دوی ټوټې ټوټې نه کړي) نفاق ټینګ او قائم پاتې کېږي، لکه چې د دې سورت په ابتداء کې تېر شوي دي: ﴿فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِي قُلُوبِهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ يَلْقَوْنَهُ بِمَا أَخْلَفُوا اللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ﴾.

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ ۚ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ ۚ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١١١﴾

بېشکه چې الله پیرودلي (اخیستلي) دي له مؤمنینو ځخه نفسونه د دوی، او مالونه د دوی؛ په عوض د دې چې بېشکه شته دوی لپاره جنت، (دغه پیرودل ـ اخیستل په دې شان دي چې) جنګونه کوي دوی په لاره د الله کې، نو وژني مؤمنان (دا کفار)، او وژلی شي دغه مؤمنان (د کفارو له لوري)، وعده ده په دغه (الله) باندې وعده حقه په تورات کې او په انجیل کې او په قرآن کې، او ځوک دی ښه وفا کوونکی په وعدې خپلې سره له الله ځخه (بلکه هیڅوک نشته)؛ نو خوشاله

شئ تاسې (ای مؤمنانو) په بیع ستاسې باندې هغه چې معامله کړې ده تاسې له الله سره په هغې، او دغه (بیعه چې ده) همدغه بری دی ډېر لوی.

تفسیر: له دې نه زیات ګټور او فائدمن تجارت او عظیم الشأن بری به څه وي؟ چې ځمونږ د حقیرو ځانونو او فاني أموالو خریدار الله قُدّوس ګرځېدلی دی، ځمونږ ځان او مال چې في الحقیقت د همغه پاک الله مملوک او مخلوق دی، محض په أدنی مُلابست سره ځمونږ په لوري نسبتوي (او مبیعه) یې دروي، چې په «عقد د بیع» کې مقصود بالذات وي، او د جنت په شان یو ډېر أعلی مقام یې د هغه «ثمن» راوښود، چې «مبیعې» ته د رسېدلو وسیله ده.

نو کله چې موقع او وقت راشي؛ نو ځان او مال د پاک الله په لاره کې په اخلاص سره وړاندې کړئ، او د دغه عالي مقصد لپاره مو ځانونه او مالونه تل تیار او مهیا لرئ ! او د هغو په ورکولو کې بخل او شومتیا مه کوئ ! اعمّ له دې نه چې هغه یې واخلي که یې وانه خلي، ښایې چې هغه د ده په دربار کې تل حاضر او تیار اوسي، نو ځکه یې وفرمایل: ﴿يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ﴾ یعنې مقصود د الله تعالی په لاره کې د ځان اومال حاضرول دي، وروسته له هغه که ووژنئ کفار یا ووژل شئ د کفارو له لاسه؛ په دغو دواړو صورتونو کې د «بیع عقد» پوره کیږي، او په یقیني ډول سره د «ثمن» یعنې د جنت مستحق ګڼل کېږئ.

ممکن دی چې ځینو ته دغسې کومه وسوسه ور په زړه شي چې معامله خو بښکه ګټوره او فائده منه ده، لیکن نقد «ثمن» یې چېرې دی؟ د هغه ځواب یې داسې ورکړ: ﴿وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ﴾ یعنې د ثمن او د زرو د سوځېدلو هیڅ یوه وېره او خطر نشته، الله تعالی په ډېر تاکید او اهتمام سره پوخ سند او دستاوېز لیکلی دی، چې د هغه خلاف غیر ممکن دي.

اَلتَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ الْحٰمِدُوْنَ السَّآئِحُوْنَ الرّٰكِعُوْنَ السّٰجِدُوْنَ الْاٰمِرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّاهُوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ ؕ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١١٢﴾

(دوی) توبه کوونکي دي، عبادت کوونکي دي، شکر کوونکی دي (الله ته په اخلاص)، بې تعلق پاتې کېدونکي دي (د دنیوي لذائذو نه) رکوع کوونکي دي سجدې کوونکي دي، حکم کوونکي دي په معروف (نېکو کارونو)، او منع کوونکي دي له منکرو (بدو کارونو)، او ساتونکي دي د حدودو د الله، او زېرى ورکړه (ای محمده !) مؤمنینو ته (چې موصوف دي په دغو صفاتو په جنت سره).

تفسیر: ځینې له «السائحون» څخه «روژه نیوونکي» مرادوي، ځکه چې روژه دار د خوړلو او څښلو او نورو شهوانیو لذائذو، او نفسي مرغوباتو ځنې بې تعلقه وي، د ځینو نورو په نزد د دغه لفظ مصداق «مهاجرین» دي، چې د خپلو کورونو او کهولونو څخه بې تعلقه شوي دي، او په «اسلام» کې یې هستوګنه کړې ده، ځینې له دې څخه «مجاهدین» اراده کوي، ځکه مجاهد له خپله ځانه بې تعلقه کیږي، او د الله تعالی په لاره کې د سر جارولو (قربانولو) لپاره راوځي، د اکثرو اسلافو په نزد هغه اوله ترجمه مختاره ده، والله أعلم.

شاه صاحب فرمایلي دي: «ښایي د بې تعلقه پاتې کېدو څخه دا مراد وي چې په دنیا پورې زړه ونه ټړي».

﴿الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنْكَرِ﴾ : یعنې د خپلو ځانونو د اصلاح او سنبالولو سره د نورو ځانونه هم اصلاح کوي او سنبالوي.

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَن يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَىٰ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿١١٣﴾

نه دي لايق او روا نبي ته او هغو كسانو ته چې ايمان لرونكي دي چې مغفرت وغواړي دوى لپاره د مشركانو او اګر كه وي دا خاوندان د خپلوى وروسته له دې خبرې چې ښكاره شي دوى ته چې بېشكه دوى صاحبان دي د دوزخ !.

تفسير: هر كله چې مؤمنينو خپل ځانونه او مالونه پر الله تعالى پلورلي (خرڅ كړي) دي، نو دغه خبره ضروري ده چې له نورو ټولو ځنې ځانونه راټول كړي، او يواځې پاك الله ته خپل ځان وسپاري، له اعداء الله وو څخه دې چې د هغوى دښمني له الله سره او جهنمي او دوزخيتوب يې معلوم شوى دى؛ د خپلو مهربانيو او محبت سلسله وشلوي، اګر كه دغه د الله تعالى دښمنان د ده مور او خور، پلار او بادار (مالك)، ترور او نګور، تره او تربور، نيكه او نيا او نور مخصوص خپلوان هم وي، ځكه هغه چې له الله تعالى څخه باغي او د ده دښمن وي؛ نو هغه د مؤمنانو څرنګه دوستان او خپلوان كېدى شي؟ نو د هر هغه چا چې په نسبت داسې معلومات حاصل شي، چې باليقين دوزخي دى، اعم له دې نه چې د الله تعالى په وحي سره وي، يا چې په ښكاره ډول سره پر كفر او شرك كې مړ شي، نو د دوى په حق كې استغفار او د بخښنې غوښتنه منع ده.

په ځينو روايتونو كې راغلي دي، چې دغه آيت د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مور «بي بي آمنې» په باره كې نازل شوى دى، په ځينو احاديثو كې راغلي دي، چې د رسول الله مبارك تره «ابو طالب» باره كې نازل شوى دى، او ځينو داسې نقل كړى دى، چې مسلمانانو وغوښتل چې د خپلو هغو مشركينو پلرونو لپاره چې مړه شوي دي؛ استغفار وغواړي، نو په دغه آيت سره دوى د هغوى له استغفاره منع شول.

په هر حال د دې آيت شان نزول هر څه چې وي، حكم خو همدغه دى چې د هغو كفارو او مشركينو په حق كې چې دهغوى خاتمه پر كفر او شرك باندې معلومه شي؛ استغفار ناجائز دى.

وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ ﴿١١٤﴾

او نه وه بخښنه غوښتل د ابراهيم لپاره د پلار خپل مګر په سبب د وعدې چې كړې وه ابراهيم د هغه سره (چې بخښنه به درته غواړم)، نو كله چې معلومه شوه ابراهيم ته چې بېشكه دغه پلار د ده دښمن دى د الله؛ نو بېزاره شو له هغه، بېشكه ابراهيم خامخا ډېر آه كوونكى (نرم زړى) ډېر تحمل والا وو.

تفسير: د ﴿وَعَدَهَا إِيَّاهُ﴾ ترجمه ځينو داسې كړې ده: كړې وه دغه وعده ابراهيم د خپل پلار سره لكه چې د «مريم» عليها السلام په سورت كې راغلي دي، كله چې د ابراهيم عليه السلام پلار د حق له قبوله اعراض وكړ، او د ضد او عناد له سببه يې ابراهيم عليه السلام په وژلو سره وپرواوه، نو د خپلو والدينو د ادب په ملاحظه يې وفرمايل: ﴿قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا﴾، يعنې: «زه دالله تعالى له درباره ستا لپاره استغفار غواړم» نو دوى سم له دغې وعدې سره تل استغفار كاوه، لكه چې په بل ځاى كې د ﴿وَاغْفِرْ لِأَبِي﴾ د فرمايلو تصريح هم شته، د دې مطلب داسې نه دى چې ابراهيم عليه السلام د يوه هسې مشرك لپاره بخښنه غواړي، چې هغه د شرك په حالت كې قائم وو، نه، غرض يې داسې وو چې: هغه ته داسې يو توفيق ور په برخه شي چې د شرك له حالته ووځي، او د اسلام په غېږ كې ننوځي، او د اسلام قبول د هغه د خطاوو دمعافى سبب شي: «إن الإسلام يهدم ما قبله».

کله چې لويو اصحابو د ابراهيم عليه السلام دغه استغفار په قرآن کې ولوست، نو د دوی په زړونو کې هم دغه خيال پيدا شو، چې مونږ ته هم ښايي چې د خپلو مشرکينو پلرونو په حق کې استغفار وکړو، د دې خبرې ځواب الله تعالى داسې ورکړ، چې ابراهيم عليه السلام د خپلې يوې وعدې په بناء يواځې تر هغه وقته پورې د خپل پلار لپاره بخښنه غوښتله؛ چې په يقيني ډول سره ورته دا خبره نه وه واضحه شوې چې د ده پلار (آزر) په کفر او شرک او د الله تعالى پر دښمنۍ باندې مري، ځکه چې پخوا له مرګه احتمال وو، چې توبه وباسي، او په اسلام مشرّف شي او وبخښلى شي.

نو کله چې ابراهيم عليه السلام ته دغه خبره څرګنده شوه، چې د هغه خاتمه په کفر او شرک سره وشوه، او تر مرګه پورې يې د الله تعالى د دښمنۍ څخه لاس وانخيست؛ نو ابراهيم عليه السلام هم ترې بيخي بېزاره شو، او دعاء او استغفار او نور يې ترک کړل، پخوا يې د زړه د نرمۍ او شفقت لامله دعا کوله، کله چې دتوبې او د رجوع کولو ګرد احتمالات منقطع شول؛ نو ده هم د هغه د خير غوښتلو څخه لاس واخيست، او دغه حادثه يې د نبوّت په صبر او تحمّل سره وځغمله.

وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ إِذْ هَدَاهُمْ حَتَّىٰ يُبَيِّنَ لَهُم مَّا يَتَّقُونَ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾

او نه دى الله چې بې لارې کړي هيڅ يو قوم وروسته له هغه وقت چې لاره يې وښوولە دوى ته (د اسلام) تر هغه پورې چې بيان کړي دوى ته هغه څيز چې ځان ترې وساتي، بېشکه الله پر هر څيز باندې ښه عالم دى.

تفسير: يعنې د حجّت له اتمامه وړاندې او د حق له اظهاره پخوا پاک الله هيڅوک نه ګمراه کوي، ګمراهي دغه ده کله چې الله تعالى خپل احکام په صاف او ښکاره ډول بيان کړي، او بيا د هغه امتثال ونشي، ګواکې اشاره يې وفرمايله: هغو کسانو چې پخوا له ممانعته يې د مشرکينو لپاره بخښنه غوښتلې ده، پر هغو باندې هيڅ يوه مؤاخذه نشته، ليکن وروسته له خبرېدلو څخه داسې کار کول ګمراهي ده.

إِنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ يُحْيِي وَيُمِيتُ ۚ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١١٦﴾

بېشکه چې خاص الله لره دى سلطنت (بادشاهي) د آسمانونو او د ځمکې، ژوندي کول او مړه کول کوي، او نشته تاسې ته بې له الله څخه هيڅ ولي دوست او نه مددګار.

تفسير: کله چې سلطنت د ده دى؛ نو ښايي حکم هم پرې د هغه وچليږي، دى په خپل محيط علم او کامل قدرت سره هر هغه احکام چې نافذ کړي؛ د بندګانو تکليف او کار دا دى چې بې خوفه او بېخطره د هغه په تعميل او اجراء کې بوخت، مشغول او لګيا شي، او په هغه وخت کې د هيڅا خاطر او لحاظ ته موقع او ځاى ورنه کړي، ځکه چې بې له الله تعالى څخه بل هيڅوک پکار راتلونکى نه دى.

لَّقَد تَّابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِن بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٧﴾

خامخا په تحقيق رجوع کړې ده الله په رحمت پر نبي باندې او پر مهاجرينو او انصارو هغو کسانو چې متابعت کړى وو دوى د نبي د تنګسې او سختۍ په وخت کې وروسته له هغه چې نژدې

شوي وو چې کاږه شي زړونه د يوې ډلې له دوی، بيا رجوع په رحمت سره وکړه الله پر دوی، بېشکه چې هغه پر دوی ډېر مهربان زيات رحم کوونکی دی.

تفسير: د دې مشکل ساعت څخه مراد د «تبوک» د غزوې زمانه ده، چې په هغې کې څو قسمه مشکلات راټول شوي وو: سخته ګرمي، اوږده مسافه، د خرماوو موسم، د هغې زمانې د عظيم الشأن يو سلطنت سره مقابله او پرې د اسلامي لښکر تعرض، بيا د ظاهري بې سروسامانۍ داسې حالت وو، چې يوه يوه دانه خُرما به هره ورځ پر دوو تنو غازيانو باندې وېشله کېده، په آخره کې دې خبرې ته هم وار ورسېده، چې ډېرو مجاهدينو به فقط يوه دانه خُرما په خوله ځېښله، او بيا به يې پرې اوبه څښلې، بيا د اوبو د فقدان او نشتوالي لامله د اوښانو د فضلاتو په لندبلو به يې ساعت تېراوه، سورلۍ په دغه اندازه لږه وه، چې په لسو لسو تنو به يو اوښ ور رسېده، چې په نوبت سره يو سورېده او بل به ترې ښکته کېده، د همغه ايثار جذبه او د ځان جارولو او قربانولو جوش وو، چې د اسلامي ډېر يو وړوکي جماعت ته داسې قوت او قدرت ور په برخه کړی شوی وو، چې په هغه سره د دنيا پر ټولو اقوامو باندې غالب او ټول جهان دعلم او عرفان، عدل او احسان په رڼا سره رڼ شو، لله الحمد والمنّه !.

﴿مِنۢ بَعۡدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٖ مِّنۡهُمۡ﴾ الآيه - «وروسته له هغه چې نژدې شوي وو چې کاږه شي زړونه د يوې ډلې له دوی»، د ځينو مؤمنينو زړونه هم د مشکلاتو او صعوباتو سختيو له هجومه پرېکېدل او لړزېدل، او نژدې وو چې د نبي صلى الله عليه وسلم له رفاقته وروسته پاتې شي، الله تعالى بيا پر دوی مهرباني وکړه، او لاسونه يې ونيوه چې دوی له سره پر داسې خطراتو او وساوسو باندې عمل ونه کړي، او محفوظ ترې پاتې وي، او د مؤمنينو همّتونه يې مضبوط او د دوی ارادې يې لوړې کړې.

وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ وَضَاقَتۡ عَلَيۡهِمۡ أَنفُسُهُمۡ وَظَنُّوٓاْ أَن لَّا مَلۡجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيۡهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡ لِيَتُوبُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١١٨

او خصوصاً پر هغو درې تنو چې بېرته پاتې شوي وو تر هغه پورې چې تنګه شوه پر دوی ځمکه سره له ارتوالي د دې (ځمکې)، او تنګ شو پر دوی زړونه د دوی (له ډېره غمه)، او يقين يې وکړ چې نشته ځای د پناه له (قهره د) الله مګر هم ده ته دی، بيا رجوع وکړه (الله پاک) پر دوی لپاره د دې چې توبه وباسي دوی، بېشکه چې الله همدی دی ښه توبه قبلوونکی، ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: دغه درې سړي (كعب بن مالك، هلال بن أبي أمية او مرارة بن الربيع) دي، چې سره له دې چې مؤمنان او مخلصان وو، خو د ځان اسانۍ او هوسايۍ (آرامۍ) خوښولو په اثر بې له شرعي عذره د «تبوک» د غزوې له شرکته محروم پاتې شول، کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم بېرته تشريف راوړ، نو دوی نه د منافقينو په شان د دروغو عذرونه وړاندې کړل، او نه يې د ځينو صحابه وو غوندې خپل ځانونه په ستنو وترل، لکه هغه حقيقي واقعه يې په صافو الفاظو سره عرض کړه، او پخپل قصور او کوتاهۍ باندې يې په ښکاره او علانيه ډول اعتراف او اقرار وکړ، نتيجه داسې شوه چې د منافقينو له لوري په ښکاره ډول سره اغماض وکړ شو، او د هغوی بواطن الله تعالى ته وسپارلې شو، او د «أصحاب السّوراي» يعنې د هغو کسانو چې خپل ځانونه يې پر ستنو پورې ترلي وو، توبه قبوله کړه شوه، او د دغو درې واړو فيصله د څه مودې لپاره تأديبا ملتوي پاتې شوه، وروسته د پنځوسو ورځو د تېرېدو څخه د دوی توبه هم قبوله شوه، د بېرته پاتې کېدلو څخه په ﴿ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ﴾ کې هم دغه مطلب دی، لکه چې بخاري شريف کې د

همدغه «كعب بن مالك رضي الله عنه» څخه نقل شوی دی، د تفصیل لپاره یې صحیح بخاري شریف ته رجوع وکړئ.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ ﴿١١٩﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی ! وویرېږئ تاسې له الله نه، او شئ (ملګري) سره له صادقانو (چې محمد او اصحاب یې دي).

تفسیر: یعنې له رښتینو سره صحبت وکړئ ! او دهغو په شان کارونه کوئ ! او وګورئ چې دغه درې سړي د رښتیا ویلو په سبب وبخښل شول اومقبول وګرځېدل، منافقانو دروغ وویل، او د الله تعالی وېره یې له خپلو زړونو څخه وویستله؛ نو د جهنّم مستحقان شول.

مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ وَلَا يَرْغَبُوا بِأَنْفُسِهِمْ عَنْ نَفْسِهِ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَطَئُونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهِ عَمَلٌ صَالِحٌ إِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٢٠﴾

نه دي روا مدینې والا وو ته او هغه چا ته چې چاپېر د دوی دي له (صحرایي) عربو څخه دا کار چې ښه ترته پاتې شي دوی د الله د رسول نه (په تلو د غزا کې) او بهتر او غوره به نه ګڼي خپل ځان درسول الله صلی الله علیه څخه او نه مینه کوي دوی په ځانونو خپلو له نفسه د رسول نه، دغه (وجوبي متابعت او نهي د مخالفت) په سبب د دې دی؛ چې بېشکه دوی چې دي: نه رسېږي دوی ته تنده او نه ستوماني او نه لوږه په لاره د الله کې، او نه ږدي دوی قدمونه پر کوم ځای چې په قهر سره راولي (دغه قدمونه) کفارو لره، او نه رسېږي دوی هیڅ دښمن ته په رسېدلو سره؛ مګر لیکلی شوی دی دوی ته په سبب د هر یوه له دغو مذکوره وو شیانو عمل نېک، بېشکه چې الله نه خرابوي اجر (ثواب) د نیکي کوونکو.

تفسیر: یعنې داسې نه دي پکار چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تکلیفونه او ربړونه (زحمتونه) وګالي (برداشت کړي)، او مونږ په آرامي او هوسایي (آسانۍ) سره کېنو، سره له دې چې په دغو پېښو کې اکثره شیان لکه لوږې او تندې رسېدل، تکالیف او ربړونه (زحمتونه) ګالل اختیاري امر نه دی، سره له دې د جهاد د نیت په برکت د دغو غیر اختیاري شیانو په مقابل کې هم صالحه اعمال د دوی د حسناتو په دفتر کې لیکلی کیږي، او په هغو باندې پاک الله دوی ته لوی ثواب او ښه اجر مرحمت فرمایي.

وَلَا يُنْفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً وَلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢١﴾

او نه لګوي دوی (په جهاد کې) هیڅ یوه نفقه وړه او نه لویه او نه قطع کوي هیڅ یو میدان یا کنده (یعنې ځمکه په کفارو پسې)؛ مګر خو لیکلی شي هغه دوی ته لپاره د دې چې جزا ورکړي دوی ته الله د هغو ډېرو ښو نېکو کارونو چې وو دوی چې کول به یې (په لاره د الله کې).

تفسير: يعني د ډېر ښه عمل به ډېره ښه جزا ورکوي:

ښکاره دی د غازيانو لوی عزت «««««» په ژوندون د دې دنيا او آخرت

کله چې پر متخلفينو د جهاد دغسې عتابونه راغلل؛ نو مؤمنانو پخپلو منځونو کې سره وويل چې: که پس له دې نه بيا غزا پېښه شوه؛ نو ټول به ځو له ځرمې (سېلمې) غزا ته؛ نو په دغه مناسبت دغه آيت نازل شو:

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾

او نه دي مؤمنان داسې چې ووځي ټول له ځرمې (سېلمې) (غزا يا د علم طلب ته)، نو ولې نه ځي له هرې ډلې له دې مؤمنانو نه يو ټولی لپاره د دې چې پوهه پيدا کړي دغه (تلونکي) په دين کې، او لپاره د دې چې خبر ورسوي قوم خپل ته کله چې بېرته راشي دوی په لوري د هغوی؛ لپاره د دې چې هغوی وويريږي.

تفسير: په تېرو رکوعاتو کې «جهاد» ته د تللو فضيلت او «جهاد» ته د نه تللو د ملامتی ذکر وو، ممکن وو چې چا داسې ګڼلې وي چې: تل په هر جهاد کې د ټولو مسلمانانو وتل فرض عين دي، په دغه آيت کې يې وفرمايل چې: تل دغسې عمومي وتلو ته څه ضرورت نشته، او نه مصلحت دی چې ټول مسلمانان سره يو دم د جهاد لپاره ودربږي او ور وځي، بلکه دا مناسب دي چې له هرې قبيلې او هر قوم څخې يوه ډله «جهاد» ته ووځي، او نور ټول دې پخپلو کارونو او ضروریاتو کې مشغول او لګيا اوسي.

اوس که نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خپل نفيس نفس «جهاد» ته تشريف يوسي، نو له هر قومه څخه هغه جماعت چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ځي؛ دوی به د نبيّ الله په صحبت کې په سلهاوو حوادثو او واقعاتو عبور کوي، او د ديني احکامو پوهه او علم به حاصل کړي، او د بېرته راتګ په وخت کې به خپلو پاتې شويو اقوامو ته د خپل زيات علم او تجربې په بناء له نېکی او بدی ځخې خبر ورکوي.

شاه صاحب ليکي: «ښايي چې له هر قومه ځخې څه خلق او سړي د پاک رسول الله صلى الله عليه وسلم په صحبت کې واوسي چې ديني علم زده کړي، او نورو پاتې شويو ته يې هم وروښيي، اوس رسول الله مبارک په دغې دنيا کې نه دی موجود، ليکن ديني علوم او علماء موجود دي، او د علم طلب فرض کفايي دی، او جهاد هم فرض کفايي دی، هو ! که په کوم وقت کې د امام له لوري نفير عام وشي، نو فرض عين ګرځي، په «تبوک» کې هم دغه صورت وو، نو ځکه د هغو کسانو ځخې چې بېرته پاتې شوي وو؛ پوښتنه وشوه، والله أعلم».

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴿١٢٣﴾

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ! جنګ کوئ تاسې له هغو خلقو سره چې نژدې دي تاسو ته له کفّارو، او ودې مومي دوی په تاسې کې کلکوالی، او پوه شئ (ای مؤمنانو !) چې بېشکه الله پرهېزګارانو سره دی (په حفاظت او اعانت سره).

تفسير: جهاد فرض کفايي دی، چې له طبيعي ترتيبه سره موافق ږومبنی له هغو کفارو سره وکړ شي چې مسلمانانو ته ډېر نژدې وي، بيا له هغو سره چې دوی ته نژدې وي، همداسې درجه په درجه ښايي چې د جهاد حلقه او دائره

وسيعه او ارته شي، د نبي كريم صلى الله عليه وسلم او د راشدو خلفاوو رضي الله تعالى عنهم جهاد هم په دغه ترتيب سره شوى دى، په دفاعي جهاد كې هم د فقهې عالمانو همدغه ترتيب غوره كړى دى، چې پر هغه اسلامي ملك باندې چې كفارو چپاو (حمله) وروړي، د هغه ملك په مسلمانانو واجب دي، چې د هغو دفاع وكړي، كه هغوى كافي نه وي، يا لتې (ناراستي) يا سستي كوي، نو په هغو مسلمانانو جهاد واجبيږي، چې دوى ته متصل پراته وي، همداسې كه ضرورت واقع شي؛ نو درجه په درجه له مشرقه نيولې تر مغرب پورې جهاد پرله پسې فرضيږي.

﴿وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً﴾: د مؤمن شان دا دى چې د خپل اسلامي وروړ په مقابل كې نرم بردبار وي، او د الله تعالى او د رسول الله د دښمنانو په معاملې كې ډېر كلك، تند، ځيږ او شديد وي، تر څو د هغه د نرمۍ او سستۍ لـه لېدلو څخه دښمنان پرې زړور او جريء نشي: ﴿أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ﴾ (٦ جزء د المائدې سورت (٥٤) آيت (٨) ركوع)، ﴿وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾ (٢٦ جزء د الفتح سورت (٢٩) آيت (٤) ركوع)، ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ﴾ (٢٨ جزء د التحريم سورت (٩) آيت (١) ركوع)، (١٠ جزء، سورة التوبة (٧٣) آيت، (١٠) ركوع.

﴿وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ﴾ الآيه - يعنې د الله تعالى ځنې ويريدونكو كسانو ته نه ښايي چې له هيڅ كوم يوه كافر قوم څخه وويريږي، يا د هغو په مقابل كې ځان ښكته وكښې، او هر څومره چې مسلمانان د الله تعالى څخه وويريږي؛ تر هغه وخته پورې او په همغې اندازې دوى په كفارو باندې برى او غلبه مومي، اى پاك الله ! ته ځمونږ زړونه له خپلې وېرې او مينې څخه ډك كړې !.

وَإِذَا مَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِ إِيمَانًا ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿١٢٤﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا إِلَىٰ رِجْسِهِمْ وَمَاتُوا وَهُمْ كَافِرُونَ ﴿١٢٥﴾

او كله چې نازل كړى شي كوم سورت؛ نو ځينې له دغو منافقانو هغه دي چې وايي: كوم يو دى له تاسو چې زيات كړ هغه ته دې سورت ايمان؟؛ نو هر چې هغه كسان دي، چې ايمان لرونكي دي؛ نو زيات كړ (دغه سورت) دوى ته ايمان حال دا چې دوى خوشاليږي. او هر چې هغه كسان دي، چې په زړونو د دوى كې مرض (د نفاق، شك او كفر) دى؛ نو زياتوي (دا سورت) دوى ته ګندګي پر ګندګي د دوى (چې كفر او شك دى)، او مري دوى په دې حال كې چې دوى كافران دي.

تفسير: هر كله چې كوم قرآني سورت نازلېده؛ نو منافقينو به په خپلو منځونو كې يو له بله سره، يا له ځينو ساده او ضعيف الاعتقادو مسلمانانو سره د استهزاء او تمسخر له لوري ويل: «څرنګه صاحبه ! په تاسې كې د كوم كوم سړي ايمان دغه سورت در زيات كړ؟» مطلب به يې داسې وو چې - معاذ الله - په دغه سورت كې څه شى اينبى دى؟ او كوم حقائق او معارف په كې شته چې د ايمان او ترقي موجب وګڼل شي؟.

پاك الله د دوى د دغې وينا داسې جواب وفرمايه: بېشكه چې د مؤمنانو ايمان ته د الله تعالى د كلام له آورېدلو څخه ترقي، تازه ګي، او تزييد ور په برخه كيږي، او د هغو زړونه مسرور او منشرح كيږي، هو ! د هغو كسانو په زړونو كې چې د كفر او نفاق رنځوري او ګندګي وي؛ نو د دوى په رنځورۍ او ګندګۍ كې تزييد كيږي، تر دې حده پورې چې دغه رنځوري به د دوى ساه وباسي، بيا به يې پريږدي.

أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾

آيا فكر نه كوي او نه ګوري دوی؟ چې بېشكه مبتلا كولی شي (په ډول ډول مصائبو) په هر يوه كال كې يو كرت يا دوه كرته، بيا له سره هغوی نه توبه كوي، او نه پند اخلي.

تفسير: يعنې لږ تر لږه په هر كال كې يو ځلې يا دوه ځلې دغه منافقين په فتنه او آزمويښه كې غورځول كيږي، مثلا قحط، رنځوري او په نورو ارضي يا سماوي آفتونو كې مبتلا كيږي، يا د پاك رسول الله په مبارکه ژبه د دوی نفاق علانيه او ښكاره څرګنديږي، يا د جنګ او جهاد په وخت كې د دوی وېره، بې زړه توب، نفاق او د زړه څېره ښكاره كيږي، مګر دوی داسې بې حيا او بد باطن واقع شوي دي؛ چې له سره يې سترګې نه شرميږي، او سره له تنبيهاتو بيا هم په سمه لاره نه راځي، او نه له خپلو خطاوو څخه توبه وباسي، او نه وروسته له دې نه پند او نصيحت قبلوي.

وَإِذَا مَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ هَلْ يَرَاكُم مِّنْ أَحَدٍ ثُمَّ انصَرَفُوا ۚ صَرَفَ اللَّهُ قُلُوبَهُم بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿١٢٧﴾

او كله چې نازل كړی شي كوم سورت؛ نو وګوري ځينې د دوی ځينو نورو ته: (حال دا چې وائي:)، آيا وينې تاسې كوم يو (د مسلمانانو، كه چا دوی ونه ليدل نو پاځېدل به) بيا به لاړل (له مجلسه)، ګرځولي دي الله زړونه د دوی په سبب د دې چې دوی هسې قوم دی چې نه پوهيږي (په ګټه او تاوان خپل).

تفسير: يعنې د نبي صلى الله عليه وسلم له مجلس څخه ګرځي، الله تعالى د دوی زړونه ګرځولي دي، چې دوی له خپله جهله او حماقته د ايمان د خبرو پوهېدل او قبلول نه غواړي.

لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٨﴾

خامخا په تحقيق راغلی دی تاسې ته يو رسول له جنسه ستاسې، چې ډېر سخت درونده دی پر ده باندې هغه كار چې تاسې تكليف مومئ (له هغه)، ډېر حرصناك دی په (هدايت) ستاسې، خاص پر مؤمنينو باندې نهايت شفيق ډېر مهربان دی.

تفسير: يعنې له هر هغه شي څخه چې تاسې ته تكليف يا سختي رسيږي؛ هغه پر ده باندې ډېر سخت او درونده دی، په هرې ممكنې طريقې سره رسول الله صلى الله عليه وسلم هم دا غواړي، چې د ده پر امت باندې آساني وي، او دنيوی او اخروي عذاب څخه محفوظ پاتې وي، نو ځكه هغه دين چې دوی له خپله ځانه سره راوړی دی؛ هغه سهل، آسان، بې تكليفه او پوست دی، او خپلو كردارانو ته هم دغه نصيحت كوي چې: «يسروا ولا تعسروا» «آساني كوئ ! سختي مه كوئ پر خلقو !».

﴿حَرِيصٌ عَلَيْكُم﴾ الآيه - يعنې ستاسې د خير غوښتلو او نفع رسولو خاص اشتياق او بېقراري د ده په زړه كې شته، هغه خلق چې د دوزخ په لورې منډې وهي؛ هغوی له ملاوو څخه پرله پسې نيسي، او د هغه څخه يې ستنوي (منع كوي)، د ده لوی كوښښ او آرزو دا ده چې د الله تعالى بندګان اصلي ښېګڼو (نېكيو) ته ورسيږي، او حقيقي بری ومومي، د جهاد او د نورو مقصد همدا يوائې وينې تويول نه دي، بلكه دمجبوريت په وخت كې دجهاد لاره نيول كيږی، كله چې كفار پخپله هم اسلامی دعوت نه منی او د دعوت په مخكی هم خنډ كيږی، نو دجهاد نوبت رسيږی.

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ﴿١٢٩﴾

نو که وګرځېدل دا (خلق له ایمان راوړلو په تا باندې) نو ووایه: کافي دی ماته الله، نشته هیڅ لایق د عبادت مګر همدی دی، پر همده توکل کړی دی ما، حال دا چې رب د عرش لوی دی.

تفسیر: یعنې که ستاسې د دې عظیم الشأن شفقت او خیر غوښتلو او زړه سوی قدر خلق ونه کړي، نو هیڅ پروا نشته، فرض یې کړئ، که ټول جهان له تاسې څخه مخ وګرځوي، نو یواځې پاک الله تاته بس او کافي دی، چې ما سوا له هغه بل هیڅوک نه د عبادت او بندګۍ وړ او لایق، او نه د توکل او اعتماد مستحق کېدی شي، ځکه چې د ځمکې او آسمان سلطنت او د عرش عظیم (شهنشاهي تخت) مالک هم دی دی، او ګردې نفعې او اضرار، هدایت او ضلالت د همده په لاس کې دي.

فائده: په ابو داود شریف کې له ابو الدرداء رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی: «هر هغه سړی چې صبا او بېګاه اوه اوه ځلې ﴿حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ﴾ ولولي؛ الله تعالی به د ده د ټولو همومو او غمومو لپاره کافي شي»، باقي د عرش د عظمت په متعلق که مو د تفصیلاتو د لوستلو شوق وي؟ نو د همدې آیت په ذیل او لمن کې دې د «روح المعاني» مضامین ولوستل شي.

تمّت سورة التوبة بفضل الله تعالی وحسن توفیقه ـ اللهم تُب علینا واجعل لنا براءة من النار، إنک أنت التواب الرحیم.

سُورَةُ يُونُسَ

«د (يونس) سورت مكي دی، يو سل او نهه آيتونه او يوولس ركوع لري، په تلاوت كې (١٠) او په نزول كې (٥١) سورت دی، د (بني اسرائيل) له سورت څخه وروسته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع كوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم كوونكی دی.

الر ۚ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْحَكِيمِ ﴿١﴾

دغه آيتونه دي د كتاب (قرآن) ډك له حكمته.

تفسير: دغه آيتونه د داسې مضمون اومحكم كتاب دي؛ چې د هغه هره خبره پخه او مضبوطه ده، الفاظ يې د دې لامله محكم او مضبوط دي، چې تل له تبديلي اوتحريفه محفوظ دي، علوم يې له دې جهته مضبوط او پاخه دي، چې ډېر زيات سم له عقله او حكمته سره دي، احكام يې له دې سببه ښه او جيد دي، چې وروسته له دې بل كوم ناسخ كتاب راتلونكی نه دی، اخبار او قصص يې هم بيخي ښه او دُرست او د واقع سره موافق دي، كله چې عليم او حكيم الله دغه پاك كتاب د خپل كامل علم سره را نازل كړی دی؛ نو ولې به هم داسې نه وي !.

أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَا إِلَىٰ رَجُلٍ مِنْهُمْ أَنْ أَنْذِرِ النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا أَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۗ قَالَ الْكَافِرُونَ إِنَّ هَٰذَا لَسَاحِرٌ مُبِينٌ ﴿٢﴾

آيا دی خلقو ته تعجب (له دې خبرې) چې وحي وكړه مونږ يو سړي ته له دوی نه؛ چې وويروه خلق (نه منونكي) او زېری وركړه هغو كسانو ته چې ايمان يې راوړی دی، چې بېشكه شته دوی ته مرتبه لويه رښتينې په نزد د رب د دوی، نو وايي دا كافران چې: بېشكه دغه (محمد) خامخا كوډګر دی ښكاره.

تفسير: يعنې په دغه كې د حيرانتيا او تعجب څه خبره ده؟ چې پاك الله د انسانانو د اصلاح او هدايت لپاره همغسې يو انسان مأمور كړی دی، او هغه ته يې خپل داسې پيغام ورلېږلی وي، چې پر هغه نور كسان بلا واسطې خبر نشي، او دغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ټول مخلوق د خالق د نافرمانۍ له مهلكو نتائجو او عواقبو څخه خبروي، او د الله تعالى د احكامو منونكو ته زېری او بشارت وركړي؛ چې د رب العزت په دربار كې د صالحو نېكو اعمالو په بركت، او په ايمان او طاعت، د پيغمبر شفاعت او نورو ډېرو لويو مرتبو او ډېرو هسكو درجو ته رسيږي، او ډېر اعلى سعادت او اقصى كرامت او ازلي فلاح او ابدي صلاح د دوی په برخه كې ليكلې شوې ده.

﴿قَالَ الْكَافِرُونَ إِنَّ هَٰذَا لَسَاحِرٌ مُبِينٌ﴾ الآيه - يعنې قرآني وحيې ته د ده د فوق العاده مؤثريت او بې نهايته بلاغت له سببه كوډې (جادو) او د هغه راوړونكي ته ساحر (كوډګر) وايي.

إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ ۖ مَا مِنْ شَفِيعٍ إِلَّا مِنْ بَعْدِ إِذْنِهِ ۚ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣﴾

بېشكه چې رب ستاسې الله دى هغه چې پيدا كړي يې دي آسمانونه او ځمكه په شپږو ورځو كې، بيا اوچت شو په عرش باندې، تدبير كوي د ټولو كارونو، نشته هيڅ شفيع (چې شفاعت وكړى شي په ورځ د قيامت كې) مګر وروسته د اذنه د الله، دغه الله (چې موصوف دى په دې صفاتو) رب ستاسې دى؛ نو عبادت كوئ تاسې د ده، آيا (فكر نه چلوئ) نو پند نه اخلئ؟

تفسير: ﴿فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ﴾: د دې آيت معنى اوتفسير د «الأعراف» په سورت (٥٤) آيت كې په تفصيل سره تېر شوي دي، د هغې څخه دې استفاده وشي !.

﴿ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ﴾: د «الأعراف» د سورت په (٧) (٥٤) آيت، ركوع كې هم داسې يو آيت تېر شوى دى، دلته دې هم د هغو فوائدو څخه فائده واخيستله شي.

﴿يُدَبِّرُ الْأَمْرَ﴾: يعنې د ټولو مخلوقاتو تدبير او انتظام د الله تعالى په بالغه حكمت او قاهره قوت كې دى.

﴿مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِن بَعْدِ إِذْنِهِ﴾ يعنې شريك او حصه دار د ده په الوهيت كې څوك چېرې كېدى شي، همدغه تش سپارش هم د ده په لوى دربار كې بې د ده د حكم او اجازې څخه امكان نه لري، او هيڅوك پرته د الله تعالى د ارادې څخه د سپارښت لپاره هم شوندې نشي خوځولى.

﴿ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ﴾ : يعنې ښه فكر وكړئ، چې د داسې رب څخه ما سوا چې صفات يې مخكې بيان شول؛ بل څوك شته چې د هغه د بندګۍ او عبادت وړ (لايق) وي؟ بيا نو تاسې څرنګه جرأت او ځغردي (ضد) كولى شئ، چې د هغه خالق، مالك، مطلق شهنشاه او بر حق حكيم له احكامو او د ده د رسول له احكامو څخه محض د وهمونو او ګمانونو په اثر انكار، او هغه ټول سره دروغجن كوئ؟ !.

إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا ۖ وَعْدَ اللَّهِ حَقًّا ۚ إِنَّهُ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ بِالْقِسْطِ ۚ وَالَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ﴿٤﴾

خاص هم ده ته ورتله ستاسې دي د ټولو، وعده كړې ده الله وعده حقه، بېشكه دى اول پيدا كوي دا مخلوق، بيا يې ژوندى كوي (پس له مرګه) لپاره د دې چې جزاء وركړي هغو كسانو ته چې ايمان يې راوړى دى او كړي يې دي ښه عملونه په عدل، انصاف سره، او هغه كسان چې كافران شوي دي؛ شته دوى ته څښل له ايشيدلو اوبو او عذاب دى دردناك، په سبب د دې چې وو دوى چې كفر به يې كولو.

تفسير: يعنې له همده څخه ستاسې ابتداء او د همده په لوري ستاسې انتهاء ده، او په آخر كې ټول د ده په لوري ورتلونكي يئ، بيا د ده او د ده د رسولانو د احكامو څخه څرنګه غاړه غړوئ.

هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً وَالْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ ۚ مَا خَلَقَ اللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِالْحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٥﴾

الله هغه ذات دى چې ګرځولى يې دى لمر رون (ځلېدونكى) او سپوږمۍ روښانه، او مقدّر (مقرر) كړي يې دي هر يوه ته منزلونه، لپاره د دې چې پوه شئ تاسې په شمېر د كلونو او په حساب (د مياشتو او ورځو)، نه دي پيدا كړي الله دا څيزونه مګر په حقه سره، په تفصيل سره بيانوي دلائل لپاره د هغه قوم چې پوهيږي.

تفسير: «نور» له «ضياء» څخه عام دی، «ضياء» خاص هغه «نور» ته وايي، چې زيات رون او ځلښدونکی وي، ځينې وايي: هغه چې رڼا يې ذاتي وي «ضياء» ده، او هغه چې له بل شي مستفاد او مستنار او رڼا کيږي؛ هغه «نور» دی، د لمر رڼا په دغه عالم الأسباب کې د بلې کرې ځنې نه حاصليږي، د سپوږمۍ رڼا البته د لمر له رڼا څخه مستفاده ده، او ځينو محققانو په دواړو کې دغه فرق رابنوولی دی، چې «نور» مطلق رڼا ته وايي، «ضياء» او «ضوء» د هغې د انتشار (خورېدلو) نوم دی، د لمر د رڼا انتشار څرنګه چې زيات دی، نو ځکه هغه يې په «ضياء» سره تعبير وفرمايه، و الله أعلم بمراده.

﴿وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ﴾ : يعنې هره ورځ يې په تدريج سره تنقيص او تزييد کوي، ﴿وَٱلْقَمَرَ قَدَّرْنَٰهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلْعُرْجُونِ ٱلْقَدِيمِ﴾ (۲۳ جزء د يس شريف سورت (۳۹) آيت (۳) رکوع).

د هيئت علماوو د سپوږمۍ دورې شمېرلې دي، او اته ويشت منازل يې ورته مقرر کړي دي؛ چې پر دوولسو برجو منقسم دی، په قرانکريم کې خاص د هغو مصطلحاتو مراد نه دي، بلکه مطلق سير، او د مسافت مدارج ترې مراد وي.

﴿لِتَعْلَمُوا۟ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَ﴾ يعنې د کلونو حساب او د مياشتو وړوکی او لوی شمېر ټول د لمر او سپوږمۍ په حرکاتو پورې تړلي دي، که لمر او سپوږمۍ نه وي، نو شپه او ورځ، قمري او شمسي مياشتې، کال او نور به څرنګه متعين کېدل؟ حال دا چې برسېره پر دنيوي ژوندون او د معاشي چارو، د ډېرو شرعيه وو احکامو د اوقاتو ټاکل (مقررول) او تعيين هم په همدغه لمر او سپوږمۍ سره کيږي.

﴿مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلْحَقِّ﴾ يعنې د فلکياتو سلسله هم داسې خوشې چټې (بېکاره) شی او کيفما اتفق نه ده، بلکه له ډېر عظيم الشأن نظام او تدبير لاندې چليږي، او په زرهاوو فوائدو او حکمتونو باندې مشتمله ده.

﴿يُفَصِّلُ ٱلْـَٔايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ﴾ : يعنې پوه خلق او عقلاء د دغه نظام له کتلو څخه د پاک قادر حکيم الله سُراغ او پته لګوي، او د مادياتو له انتظامه د روحانياتو د عالم په متعلق هم اندازه لګوي، چې په هغې روحاني دنيا کې څرنګه لمر او سپوږمۍ پاک الله پيدا کړي دي، او همدغو ته انبياء او مرسلين وايي.

إِنَّ فِى ٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ لَـَٔايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَّقُونَ ۝٦

بېشکه په اختلاف د شپې او ورځې کې (چې تل اوږديږي او لنډيږي، او يوه په بلې پسې راځي يخ او ګرميږي)، او په هغو څيزونو کې چې پيدا کړي دي الله په آسمانونو کې او ځمکه کې؛ خامخا دلائل دي (د قدرت) لپاره د قوم چې ويريږي (له رحمان او ځان ساتي له عصيانه).

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا وَرَضُوا۟ بِٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَٱطْمَأَنُّوا۟ بِهَا وَٱلَّذِينَ هُمْ عَنْ ءَايَٰتِنَا غَٰفِلُونَ ۝٧ أُو۟لَٰٓئِكَ مَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ۝٨

بېشکه هغه کسان چې نه لري اميد د ملاقات ځمونږ او خوښ دي په دې ژوند لږ خسيس او آرام يې نيولی په دی (ژوند پورې) او هغه کسان چې دوی له آيتونو ځمونږ نه غافلان دي. دغه مذکوره کسان ځای د ورتلو د دوی اور (د دوزخ) دی په سبب د هغه چې وو دوي چې کول به يې.

تفسير: يعنې له دنيا سره يې داسې زړه ونښلاوه او هسې په کې مشغول او لګيا شول چې له آخرته او د الله تعالى د مخامخ کېدلو او ليدلو څخه بيخي بې پروا شول، او هم دغه د څو ورځو ژوندون يې د ځان مقصود او معبود وګرځاوه، او د قدرت په هغو ننښو او دلائلو يې چې پاس ياد شول؛ له سره هيڅ غور او تأمل ونه کړ، چې داسې مضبوط او حکيمانه نظام خو همداسې بېکاره او چټې (فضول) نه دی جوړ کړی شوی، او ضرور د دې لويې کارخانې څخه کوم خاص

مقصد او مدّعا شته، بيا نو هغه ذات چې اول ځلې يې داسې عجيبه او غريبه کارخانه او مخلوقات پيدا کړي دي، هغه ته د هغه بيا پيدا کول هيڅ ګران او مشکل نه دي.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ يَهْدِيهِمْ رَبُّهُم بِإِيمَانِهِمْ ۖ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿٩﴾

بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی او کړي يې دي ښه (عملونه) وبه ښيي دوی ته رب د دوی لاره د جنت په سبب د ايمان د دوی، چې بهيږي له لاندې (د کورونو او باغونو) د دوی (ځلور قسمه) ويالې په باغونو د آرامۍ (ډک له نعمتونو).

دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ ۚ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٠﴾

دعاوې (ويناوې) د دوی به په دې جنتونو کې (دا وي) چې پاکي ده تا لره ای الله، او پېشکشي د دوی به په دغه (جنت) کې سلام وي، او خاتمه د دعا (وينا) د دوی به دا وي چې ټولې ثناوې ستاينې (د کمال صفتونـه) خاص الله لره دي، چې رب (پالونکی) د ټولو عالميانو دی.

تفسير: يعنې کله چې جنتيان د جنت نعمتونو او د الله تعالی فضل او احسان ته ګوري «سبحان الله» به وايي، او کله چې د پاک الله څخه دکوم شي د غوښتلو مينه او آرزو کوي، مثلاً که کوم مرغه (طير) يا مېوه يا بل شی يې وليد، او ورته يې رغبت پيدا شو؛ نو ﴿سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ﴾ به وايي، د دې الفاظو د اورېدلو سره متصل پرښتې به هم همغه شی علی الفور ورحاضر کړي، ګواکې همدغه لفظ به د دعاوو قائم مقام شي.

﴿دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ﴾ يعنې جنتيان به د ملاقات په وقت کې يو بل ته سلامونه اچوي، لکه چې په دنيا کې هم د مسلمانانو دغه عادت او دستور دی، او هم د پرښتو سلام اچول جنتيانو ته بلکه بالذات د الله تعالی له لوري د سلام تُحفې راتلل په پاک قرآن کې منصوص دي: ﴿سَلَامٌ قَوْلًا مِّن رَّبٍّ رَّحِيمٍ﴾ (۲۳ جزء د ﴿يٰسٓ﴾ سورت (۵۸) آيت (۴) رکوع)، ﴿وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ ۝ سَلَامٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ ۚ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ﴾ (۱۳ جزء د الرعد سورت (۲۲-۲۳) آيت (۳) رکوع).

﴿وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾: وروسته د جنت له رسېدلو څخه دنيوي تفکّرات او کدورات خاتمه مومي، او تش په يوه ﴿سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ﴾ ويلو سره هر شی سم د جنتيانو له غوښتنې سره ورسيږي، نو د دوی د هرې دعا او وينا خاتمه به په ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ سره وي، او ښايي چې طبعا دې همداسې وي.

وَلَوْ يُعَجِّلُ اللَّهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُم بِالْخَيْرِ لَقُضِيَ إِلَيْهِمْ أَجَلُهُمْ ۖ فَنَذَرُ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١١﴾

او که جلتی سره ورسوي الله خلقو ته بدي په شان د جلتی د غوښتنې د دوی نيکي او خير لره؛ نو خامخا راليږلي شوي به وو دوی ته اجل (موت) د دوی، نو پرېږدو مونږ هغه کسان چې نه لري اميد دوی د ملاقات ځمونږ (په قيامت کې) په سرکشی ددوی کې چې سرګردانه به وي.

تفسير: کله انسان د دنيوي حوادثو څخه په تنګيږي، او د خپل ځان يا اولاد او نورو په حق کې ښېرې کوي، لکه چې له تجربې څخه ظاهر دي، نو اوس که الله سم د دوی له غوښتنې سره فوراً لاس په لاس عذاب يا بدي ژر هغو ته ورورسوي، څومره چې دوی ژر د نيکی د رسېدلو غوښتنه کوي، نو د بدی له وبال څخه يوه لحظه هم فرصت نه مومي، او د ژوندون مزی به يې هغه ګړی وشکيږي، مګر د الله تعالی له درباره په نېکی او بدی کې مصلحت سره موافق

تأخير او تحمّل كيږي، څو نېکان تربيت ومومي، او بد کاران په غفلت کې ولوږي، او د هغو د شرارت جام تر څنډو (غاړو) پورې ډک شي.

وَإِذَا مَسَّ الْإِنسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنبِهِ أَوْ قَاعِدًا أَوْ قَائِمًا فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُ مَرَّ كَأَن لَّمْ يَدْعُنَا إِلَىٰ ضُرٍّ مَّسَّهُ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢﴾

او کله چې ورسيږي انسان ته ضرر (تکليف)؛ نو بولي مونږ (پروت) په اړخ يا ناست يا ولاړ (يعنې په هر حال)، نو کله چې لرې کړو له ده څخه ضرر تکليف د ده؛ نو درومي په کفر خپل باندې لکه چې نه يي وو بللي مونږ (دفع کولو د) هغه ضرر ته چې رسېدلی وو ده ته، همداسې ښايسته کړی شوی دی دغو اسراف کوونکو ته هغه (عصيان) چې وو دوی چې کاوه به يې.

تفسير: يعنې انسان اول د خپلې ببياکۍ څخه د عذابونو غوښتنه کوي، او پخپلې ژبې بدي غواړي، مګر دومره کمزور او ناتوانه هم دی، چې که لږ څه تکليف ور ورسيږي؛ نو ژر تر ژره ويريږي، او ځمونږ په بللو سره پيل (شروع) کوي، او تر هغه وقته پورې چې پرې مصيبت وي، په ولاړه، ناسته، ملاسته او په هر حالت کې پاک الله يادوي او ترې استمداد غواړي، مګر کله چې تکليف ترې لرې کړ شي؛ نو ترې هغه ټولې ويناوې عذر او زاری هېريږي، او داسې يو وضعيت ښکاره کوي چې ګواکې ده له سره الله تعالی ته خپل احتياج او اړتيا نه وه وروړاندې کړې، او پخپل همغه تکبر، غرور، لويی، غفلت او د ځانمنی (خودنمايی) په نشو کې مست ګرځي، او په همغه ضد او عناد لګيا اوسيږي چې پخوا له دې نه په کې اخته او مبتلا وو.

په حديث کې راغلي دي چې «ته په عيش او عشرت، هوسايی او آرامی کې خپل الله يادوه ! نو الله تعالی به هم تا په سختيو، مصيبتونو او تکليفونو کې يادوي»، د مؤمن له شانه دا دی؛ چې په هيڅ وقت کې پاک الله نه هېروي، تل په سختی او مصيبت کې صابر او په وقت د عيش او پراخی او وسعت کې شاکر اوسيږي، او د الله جلّ وعلا حمد او ثناء ادا کوي، دا همغه شی دی چې د هغه توفيق پر ته (علاوه) له مؤمنه د بل چا په برخه نه کيږي.

وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا الْقُرُونَ مِن قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوا وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ وَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِينَ ﴿١٣﴾

او خامخا په تحقيق هلاک کړي وو مونږ اهل د زمانو چې وو پخوا له تاسو کله چې ظلم يې کړی وو، او حال دا چې راوړي وو هغو ته رسولانو د هغو ښکاره دلائل، او له سره نه وو چې ايمان يې راوړی وی، همداسې سزا ورکوو مونږ قوم مجرمانو ته.

تفسير: يعنې که سم د هغو د غوښتنې سره ژر عذاب ورنشي يا خو ترې تکليف او مصيبت لرې شي؛ نو ښايي چې بې فکره نشي، ځکه د ظلم او شرارت او بې ايمانی سزا هرومرو ژر يا په ځنډ ورسېدونکې ده، سنت الله له قديمه راهيسې په همدې باندې جاري دی، کله چې خلقو سره له دې چې د انبياوو او مرسلينو ښکاره دلائل او معجزې يې وکتلې، خو وروسته له هغه يې هم ظلم او تکذيب ته ملاوې وترلې، او په هيڅ ډول د ايمان او تسليم په لوري متمائل نشول، نو هغوی آسماني عذاب هلاک کړي دي، او تل مجرمينو ته په يوه قسم نه په بل قسم سزا رسېدلی شي.

ثُمَّ جَعَلْنَاكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ مِن بَعْدِهِمْ لِنَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾

بيا مونږ ورګرځولئ تاسې (ای محمدي امته !) خليفګان په ځمکه کې وروسته له هغو څخه لپاره د دې چې وګورو مونږ چې څرنګه عمل کوئ تاسې.

تفسير: يعني د پخوانيو په ځای تاسو ته يې د ځمکې په سر هستوګنه درکړه، تر څو وکتل شي چې تاسې تر کومه حده پورې د خالق او د مخلوق حقوق پېژنئ، او ادا کوئ يې؟ او د الله تعالى له رسولانو سره څرنګه معامله کوئ؟ نېک که بد؟ هر ډول عمل چې وکړئ سم له هغه سره تاسې سره مناسبه معامله کولی کيږي، وروسته له دې نه د هغې معاملې ذکر دی، چې کفارو او منکرانو له پاک قرآن عظيم يا له رسول کريم يا الله قدّوس سره کړې وه.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَٰذَا أَوْ بَدِّلْهُ ۚ قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِي ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ ۖ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾

او کله چې ولوستل شي پر دغو (کفارو) آيتونه ځمونږ حال دا چې واضح دي؛ نو وايي هغه کسان چې نه لري امید د ملاقات ځمونږ، چې راوړه يو قرآن چې غير وي له دې قرآن نه، يا يې بدل کړه (چې د بُتانو عيبونه او دغه احکام په کې نه وي) ووايه (ای محمده دوی ته) ! چې نه ښايږي ماته دا چې بدل کړم دغه (قرآن) له ځانه خپله، متابعت نه کوم زه مګر د هغه وحی چې رالېږلی شوی دی ماته (بې له زيادت او نقصان)، بېشکه زه ويرېږم که نافرماني وکړم د رب خپل (په تبديل د قرآن سره) له عذاب د ورځې لويې.

تفسير: کله چې د بت پرستی يا د کفارو د مخصوصو عقائدو او نورو تردید کولی شي؛ نو کفّار متوحش او ترهور کيږي، او په ډېر نفرت او کراهيت سره رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وايي چې: پاک الله ته ووايه چې: «بل کوم هسې قرآن درکړي چې په کې دغسې مضامين نه وي، او که همدغه قرآن پاتې کيږي؛ نو دومره برخه يې ښايي چې هرومرو اصلاح او ترميم کړئ، چې بت پرستي او نورو په متعلق په کې خبرې شته».

د هغو خلقو له ذهنيت څخه دغه غوښتنې دومره زياتې مستبعدې نه ښکاري، چې د تيرو (ګټو) او لوټو په بتانو باندې يې د ألوهيت تصرّفات او اختيارات تقسيم کړي وو؛ چې يو رسول هم د داسې تصرّفاتو او اختياراتو مالک فرض کړي، يا به دغه وينا تشه د الزام او استهزاء په ډول وي.

په هر حال د دې تحقيقي جواب دا دی چې پخپله يې پاک الله داسې فرمايي: د کومې پرښتې يا رسول کار دا نه دی، چې له خپل لوري د الله تعالى په کلام کې ترميم وکړي، يا يې يو ټکی يا حرکت تبديل يا لاندې باندې کړي، د رسول الله صلى الله عليه وسلم وظيفه دا ده: هغه وحي چې الله تعالى له لوري راشي؛ هغه بې له تزييده او تنقيصه د ده د حکم سره موافق ورسوي، او تعميل يې وکړي، رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله تعالى د وحي تابع دی، الله تعالى د رسول تابع نه دی چې څرنګه کلام تاسې غواړئ همغسې د الله تعالى له درباره يې راوړي، د الله تعالى په وحيې کې له ادنى ځنې ادنى تصرّف قطع او پرېکول ډېر لوی معصيت او سخته ګناه ده، بيا هغه معصوم بنده ګان انبياء عليهم السلام چې له ګردو څخه زيات له الله تعالى څخه ويريږي؛ هغوی داسې معصيت او نافرماني ته کله نژدې ورتلی شي.

قُلْ لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا تَلَوْتُهُ عَلَيْكُمْ وَلَا أَدْرَاكُمْ بِهِ ۖ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِنْ قَبْلِهِ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٦﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) که د الله خوښه وی نو ما به نه وو لوستی دا (قرآن) پر تاسې او نه به خبر کړي وی (الله) تاسې په دې (قرآن)، نو په تحقيق اوسېدلی وم زه په تاسې کې ډېر عمر پخوا له (نزوله د) قرآنه، آيا نو عقل نه لرئ تاسې؟ !.

تفسير: يعني هر هغه څه چې د الله غوښتنه ده؛ همغه زه ستاسې په مخ کې لولم، او هومره چې د ده خوښه وي؛ ځما په وسيله تاسې پرې خبروي، که د ده اراده پرته (علاوه) له دې نـه وي؛ نو ځما څه طاقت او توان وو، چې له خپله ځانه کوم کلام او خبره جوړه کړم، او بيا هغه د ده په لوري منسوب کړم، آخر ځما څلوېښت کاله عمر ستاسې تر سترګو لاندې تېر شوی دی، او په دغومره اوږد مدّت کې تاسې ته ځما د ټولو حالاتو په متعلق هر قسم تجربې او معلومات حاصل شوي دي، ځما صداقت، عفّت، امانت او نور حسنه اخلاق په تاسې کې ضرب المثل دي، ځما اميتوب او د کوم معلم په مخ کې د شاګردۍ لپاره نه کېناستل؛ يوه معروفه او مسلّمه واقعه ده.

نو بيا چا چې تر څلوېښت کلنۍ پورې نه کومه قصيده ليکلې وي، او نه په مشاعراتو کې شريک شوی وي، او نه يې چېرې کوم کتاب پرانيستلی وي، او نه يې قلم په لاس کې اخيستی وي، او نه په کومې مدرسې، مکتب او نورو کې د لوستلو لپاره ناست وي، او يو ناڅاپه داسې يو کلام پېښ، وړاندې کړي، چې پخپل فصاحت، بلاغت، جزالت، سلاست، روانۍ او د اسلوب په جدّت کې ټول پېريان او انسانان عاجز کړي، او د ده د علومو او معارفو او حقائقو په مقابل کې د ټول جهان علم او عرفان بېرته پاتې شي؛ نو آيا پس تاسې عقل نه لرئ؟ او نه پوهېږئ چې دغه قرآن ما له ځانه نه دی ساز کړی، او ولې به زه په الله تعالی دروغ ترم ځکه چې:

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُونَ ﴿۱۷﴾

نو څوک دی ډېر ظالم له هغه چا نه چې ترې پر الله باندې دروغ يا نسبت د دروغو کوي آيتونو د ده ته؟ (بلکه نشته)، بېشکه شان دا دی چې خلاصی نه مومي مجرمان.

تفسير: يعني ګناهګارانو او مجرمانو ته حقيقي بری، فتحه او سېګنې نشي حاصلېدی، اوس تاسې خپله فيصله وکړئ ! چې ظالم او مجرم څوک دی؟ که په فرض محال زه دروغ جوړ کړم، او هغه پاک الله ته يې منسوب کړم، نو ما غوندې بل هيڅوک ظالم نشي کېدی، ليکن له هغه دليل څخه چې په تېر آيت کې تېر شوی دی؛ ثابته شوه چې دغه احتمال بالکل باطل دی، نو کله چې ځما صداقت ثابت او ستاسې د جهل او د عناد لامله د الله تعالی کلام دروغجن کوئ؛ نو اوس د ځمکې په مخ کې له تاسې ځنې هيڅوک لوی ظالم نشي کېدی.

وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِندَ اللَّهِ ۚ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿۱۸﴾

او عبادت کوي دغه (کفار) غير له الله د هغو بتانو چې نشي رسولی هيڅ ضرر دوی ته (که يې عبادت ونه کړي)، او نه نفع رسولی شي دوی (که يې عبادت وکړي)، او وايي دغه (کفّار) چې: دغه (بُتان) شفاعتګران ځمونږ دي په نزد د الله کې، ووايه (ای محمده ! دوی ته): آيا خبر ورکوئ تاسې الله ته په هغه څيز چې نه دی معلوم ده ته په آسمانونو او نه په ځمکه کې (يعني داسې شی هيڅېرې نشته)، دغه الله پاک، او ډېر پورته دی له هغو اشياوو چې شريکوي دوی (هغه له الله سره په عبادت کې).

تفسير: هغه معامله خو له الله تعالی او د هغه له رسوله سره وه، اوس تاسې د هغو د بُت پرستۍ حال واورئ ! چې پاک الله يې پرېښی او د داسې شيانو عبادت کوي، چې د هغو په قبضه او اختيار کې هيڅ يوه نفعه او ضرر نشته، کله چې پوښتنې کېږي؛ نو وايي: بېشکه چې لوی الله خو همغه يو او لا شريک ذات دی، چې آسمان او ځمکه يې پيدا کړي دي، مګر د دغو اصنامو (بُتانو) او نورو معبوداتو انبياؤ أولياو پير او فقير خوشاله ساتل د دې لامله ضرور دي؛ چې دوی ځمونږ شفاعت او سپارښت د پاک الله په لوی دربار کې کوي.

پاتې شوه نور وړوکي کارونه چې هغه د دوی په واک او اختیار کې دي؛ د هغو تعلّق یوائې له همدوی سره دی، بناء علیه مونږ لره ښایي چې د دوی عبادت وکړو.

نو په دې آیت کې دغې عقیدې باندې رد دی، او دا ورته په ډاګه کوي چې: د بُتانو شفاعت او د شفیع د عبادت کولو استحقاق؛ دغه دعاوی بې اصله او غلطې دي، او ښکاره ده چې د الله تعالی په علم کې همغه شی وي؛ چې صحیح او واقعي وي.

لهذا د الله تعالی د تعلیمه په خلاف دغو غیر واقعي او له ځانه جوړ کړي اصول حق ثابتول؛ ګواکې الله تعالی ته د داسې شیانو د واقعیت څخه (معاذ الله) خبر ورکول دي، چې د هغو په وقوع په آسمان او ځمکه او په هیڅ ځای کې ده ته معلوم نه دي، یعنې هیڅهرې د هغه وجود نشته، که وی نو هرومرو به د هغه علم کې وي، بیا نو د هغه څخه مو الله تعالی ولې منع کوي؟ .

وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّا أُمَّةً وَاحِدَةً فَاخْتَلَفُوا ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٩﴾

او نه وو دغه خلق مګر امت یو (متفق په یو دین د اسلام) نو اختلاف وکړ دوی، او که نه وی هغه کلمه چې پخوا ثابته شوی ده له رب ستا؛ نو خامخا به حکم (فیصله) کړی شوی وو په منځ د دوی کې په همغه څیز کې چې په هغه کې اختلاف (جګړې) کوي دوی.

تفسیر: ممکن وو چې مشرکینو به ویل چې: که الله تعالی دغه امر ستاسې په دین کې منع کړی وي؛ ځمونږ په دین کې یې خو نه دی منع کړی، د هغه جواب یې ورکړ چې: د الله تعالی دین له ازله تر ابده پورې تل یو دی، په حقه و اعتقاداتو کې هیڅ فرق نشته، هغه خلق چې په منځ کې ګمراهان، بې لارې او سره جدا شوي دي؛ الله تعالی د دوی د پوهولو او پر حقه لاره راوستلو لپاره انبیاء لیږلي دي، په هیڅ یوه زمانه او په هیڅ یو ملت کې الله شرک نه دی جائز کړی.

پاتې شوه دغه خبره چې دخلقو یو له بل سره اختلافات او جګړې ولی یو ځلې نه ورکوي؟ نو ځکه: دا یې بالجبر نه دي لري کړي؛چې د پاک الله په علم کې دغه خبره فیصله شوې ده، چې دغه دنیا «دار العمل» دی، د قطعي او آخري فیصلې ځای نه دی، دلته یې انسانانو ته کسب او اختیار ورکړی دی، او نور یې لږ څه آزاد او خپلواک پرې ایښي دي، چې دوی د عمل هره لاره چې غواړي؛ اختیار کړي، که دغه خبره لا له پخوا څخه طي او پرې کړی شوې نه وی؛ نو د ټولو اختلافاتو فیصله به یو ځلې کېده.

وَيَقُولُونَ لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ ۖ فَقُلْ إِنَّمَا الْغَيْبُ لِلَّهِ فَانتَظِرُوا ۖ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُنتَظِرِينَ ﴿٢٠﴾

او وایي دوی: ولې نه ده نازله کړی شوې پر دغه (محمد باندې هغه) معجزه (چې مونږ یې غواړو) له ربه د ده، نو ووایه: بېشکه همدا خبره ده چې (علم د) غیب خاص الله ته دی؛ نو منتظر اوسئ تاسې (نزول د هغې معجزې ته)، بېشکه زه (هم) له تاسې سره له منتظرینو ځنې یم (ستاسو عذاب ته).

تفسیر: یعنې د هغو معجزاتو غوښتنه چې دوی یې کوي چې له هغو ځنې یو معجزه ولې نه رانازله شوې؟ د جواب حاصل دا دی چې: دوی د صداقت ډېر دلائل لا له پخوا څخه لیدلي دي، د فرمایشي معجزو ورښکارولو ته هیڅ ضرورت نه دی پاتې، او نه دومره مفید دي، وروسته د هر معجزې ښوونه چې د پاک الله مصلحت وي؛ ورښکاره

کوي يې،الله تعالی سره دغه علم شته چې په مستقبل کې به د کوم شان او نوعيت معجزې ظاهروي، نو تاسې هم منتظر اوسئ، مونږ به هم انتظار کوو.

وَإِذَا أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً مِّنْ بَعْدِ ضَرَّاءَ مَسَّتْهُمْ إِذَا لَهُم مَّكْرٌ فِي آيَاتِنَا ۚ قُلِ اللَّهُ أَسْرَعُ مَكْرًا ۚ إِنَّ رُسُلَنَا يَكْتُبُونَ مَا تَمْكُرُونَ ﴿٢١﴾

او کله چې ور وځکوو مونږ خلقو ته کوم قسم رحمت (لکه صحت او غناء) وروسته له سختۍ (لکه مرض او عناء) چې رسيدلې دي دوی ته؛ نو ناڅاپه وي به دوی لره مکر (بد ويل حيله جوړول) په آيتونو ځمونږ کې، ووايه (ای محمده ! دوی ته چې) الله ډېر تيز دی له جهته د مکر، بېشکه رسولان (ملائکې ـ کرام الکاتبين) ځمونږ ليکي مکر ستاسې،

تفسير: حق تعالې په مکه والو اوه کاله قحط مسلّط کړ، کله چې هلاک ته ورنژدې شول؛ نو له ډېرې وېرې يې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم نه د دعا استدعاء وکړه، او وعده يې ورسره وکړه، که دغه عذاب له مونږ ځخه لرې شو، نو مونږ به هم ايمان راوړو، د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دعا په برکت هغه عذاب محو او ورک او د قحط بلا بيخي لرې شوه؛ نو بيا دوی په همغو شرارتونو باندې پيل (شروع) وکړ، او د الله تعالی د آيتونو په تکذيب يې لاس پورې کړ، او د الله تعالی قدرت او رحمت ته يې نظر ونه کړ، بلکه د الله تعالی انعامات يې له ظاهري اسبابو او حيلو او محض بې اصولو خيالاتو او اوهامو په لوري نسبت کړل، نو د هغه جواب يې ورکړ چې: ښه ده، ښه مکر او فريب او حيله بازي وکړئ، مګر په ياد ولرئ چې ستاسې دغه حيله بازي يو په يو ليکله کيږي، او هغه ټول دفتر به د قيامت په ورځ ستاسې په مخ کې کښنود کيږي، بيا کله چې ستاسې هيڅ يوه حيله بازي له پرښتو ځخه پټه نه ده، نو د الله تعالی د محيط علم ځخه به ځرنګه خارج پاتې کېدی شي؟ تاسې په خپل مکر او حيله بازۍ مغرور يئ، حال دا چې د الله تعالی مکر ستاسې له مکره او تدبيره ډېر ژر او سريع الأثر دی.

هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا كُنتُمْ فِي الْفُلْكِ ۖ وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا بِهَا جَاءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَاءَهُمُ الْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ ۙ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ لَئِنْ أَنجَيْتَنَا مِنْ هَٰذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ ﴿٢٢﴾ فَلَمَّا أَنجَاهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۗ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَىٰ أَنفُسِكُم ۖ مَّتَاعَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٣﴾

الله هغه ذات دی چې ګرځوي تاسي (په خپلو پښو يا په سورلی) په وچه او په بحر (سمندر په لامبو يا مرکوب)، تر هغه پورې چې سواره شئ په کشتيو کې، او روانه شي (دا ببړی) سره له دغو (خلقو چې ناست وي په کې) په هغه باد ښه (موافق له ضرورت د کشتی سره) او خوشاله شي په هغه سره؛ نو راشي هغه کشتی ته باد سخت (مخالف د مراد جاکړ)، او راشي دوی ته موج (چپې د سمندر) له هر ځايه (او له هر لوري) او وګڼي دوی دا چې بېشکه دوی احاطه وکړه شوه پر دوی (په موجباتو د هلاک)؛ دعا وکړي وبولي دوی الله (لپاره د نجات خپل) چې خالص کوونکي وي ده ته دين خپل (او وايي): قسم دی که نجات دی راکړ مونږ ته له دې (سختی)؛ نو خامخا به شو مونږ هرومرو (لازماً) له شُکر کوونکو. نو هر کله چې نجات ورکړي دوی ته (الله له غرقه او وچې ته راشي)؛ ناڅاپه دوی فساد شرارت کوي په ځمکه

کې په ناحقه سره، ای خلقو ! بېشکه همدا خبره ده چې جزاء د شرارت ستاسې په نفسونو (ځانونو) ستاسې ده، (اوس کوئ تاسې) عیش د ژوندون لږ خسیس، بیا خاص مونږ ته راتله ستاسې دي (په قیامت کې) نو خبر به درکړو تاسې ته په هغه عمل چې وئ تاسې چې کاوه به مو.

تفسیر: ابتداء کې هوا ښه نرمه، او د بېړیو کشتیو او جهازونو او نورو په مقتضاء سره برابره وي، مسافران په کې خاندي، لوبې کوي، او په ډېره آرامی او هوسایی سره په کې ناست وي، یو ناڅاپه یو زورور طوفان پیدا شي، او د څلورو خواوو د اوبو غرونه راپورته کړي، او له کشتی یا له جهازه سره یې ووهي.

نو کله چې دغه د لوی سیند (بحر) مسافران وپوهیږي، چې له هره لوري د مرګ موجباتو راچاپېر کړي یو، او د تښتېدلو او وتلو هیڅ کومه لار نه ده پاتې؛ نو دوی فرضي او مصنوعي معبودان پرېږدي، او یوائې واحد لوی الله د خپل نجات لپاره رابولي، لکه چې دانسان د اصلي فطرت تقاضا ده، هر کله چې له هر څیز څخه مایوس شي، نو خاص د الله تعالی بندګي ځان ته غوره کوي، او ډېر پوخ عهد او کلکه وعده وکړي، چې که له مصیبته پاک الله ماته نجات راکړي؛ نو زه به یې شکر کوونکی تابع او طائع اوسم، او له سره به کُفران لوري ته نه ورځم، او عصیان او طُغیان ته به نه نژدې کېږم، لیکن هر کله چې لږ څه امن او ډاډینه (قلاري) یې ور په برخه شي، او وچې ته یې پښه ورسیږي؛ نو په شرارتونو باندې لاس پورې کړي، او په ملک کې شور، شر، فتنه او فساد اچوي، د لږ څه مدّت لپاره هم په خپل عهد او ایمان ټینګ نه پاتې کیږي.

تنبیه: په دغه آیت کې د اسلام هغو مدعیانو ته لوی عبرت دی، چې د جهاز د طوفاني کېدلو په وخت کې هم د «واحد، احد الله» څخه مخ اړوي، او له غیر الله څخه مدد غواړي، او هغوی خپلې مرستې (مدد) ته رابولي.

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَىٰ أَنفُسِكُم﴾ الآیه ـ یعنې ستاسې د شرارتونو وبال پر تاسې لویږي، که څو ورځې مو شرارتونه وکړل، او فرضاً څه دنیوي ګټه (فائده) مو هم حاصله کړه؛ نو د کار په پای (انجام) کې د پاک الله دربار ته ورتګ دی، هلته به ستاسې ټول اعمال ور د مخه کیږي، رب العزت جل جلاله به د هغه سزا درکړي، او تاسې ته به دا درښکاره کوي چې ستاسې اعمال څرنګه وو.

إِنَّمَا مَثَلُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَاءٍ أَنزَلْنَاهُ مِنَ السَّمَاءِ فَاخْتَلَطَ بِهِ نَبَاتُ الْأَرْضِ مِمَّا يَأْكُلُ النَّاسُ وَالْأَنْعَامُ حَتَّىٰ إِذَا أَخَذَتِ الْأَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ أَهْلُهَا أَنَّهُمْ قَادِرُونَ عَلَيْهَا أَتَاهَا أَمْرُنَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَاهَا حَصِيدًا كَأَن لَّمْ تَغْنَ بِالْأَمْسِ ۚ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾

بېشکه همدا خبره ده چې مثال د دې ژوندون لږ خسیس (په ژر تېرېدلو کې) په شان د اوبو دی چې نازلې کړي دي مونږ هغه له (طرفه د) آسمانه؛ نو خلط شي په دې اوبو سره (هر قسم) زرغونه د ځمکې له هغه (قسم) چې خوري یې بنیادمان (لکه غلې، مېوې، سابه) او چارپایان (لکه انواع د وښو)، تر هغه پورې چې واخیست ځمکې زینت خپل او ښه ښایسته شي (په اقسام د نباتانو، اشکالو او رنګونو) او ګمان وکړي خاوندان د دې (ځمکې) چې بېشکه دوی قادر دي (په هر شانتې ګټه (فائده) اخیستلو) په دې ځمکه باندې؛ ناڅاپه راشي دې (ځمکې) ته امر (حکم) ځمونږ د شپې یا د ورځې (په خرابی د دې غلو او مېوو) نو وګرځوو مونږ دغه (فصل د ځمکې) (لکه) ربېلي شوي ګواکې نه وو (دغه کښت په دغې ځمکې کې) پرون، همداسې په تفصیل سره بیانوو مونږ دلائل لپاره د هغه قوم چې فکر کوي.

تفسير: ځينې د ﴿فَٱخْتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلْأَرْضِ﴾: معنى د پيداوارو كثرت اخيستى دى، ځكه هر كله چې د ځمكې پيداوار زيات قوي كيږي؛ نو يو جزء يې له بل سره ګډيږي، او يو له بله سره نښلي.

ځينو علماوو د ﴿بِهِۦ﴾ «باء» د مصاحبت لپاره اخيستې ده، دغسې معنى يې كړې ده، چې د ځمكې زرغونه له اوبو سره ګډ او مركب كيږي، ځكه چې د نباتاتو غذا ګرځي، د شيخ الهند «رحمه الله تعالى» له صنيع څخه مترشح كيږي، چې له اختلاطه داسې مراد اخيستى دى چې: د ځمكې او اوبو د يو ځاى كېدلو څخه هغه نباتات چې راوځي، په هغه كې د انسانو او حيواناتو غذا مخلوطه او ګډه وډه وي، مثلا د غنمو په بوټي كې دانه د بنيادمانو غذا ګرځي، او واښه يې هم د حيواناتو آذوقه كيږي، همداسې په ونو كې هم مېوې او پانې وي، چې د دوى خوړونكي هم سره ببل انواع لري، او سره جلا جلا (جدا جدا) دي.

﴿حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ ٱلْأَرْضُ زُخْرُفَهَا﴾ الآيه ـ يعنې مختلفو الوانو او اشكالو نباتاتو د ځمكې مخ مزيّن او ښايسته كړى وي، او كښتونه (فصلونه) مزارع او مراتع داسې تيار شوي وي، چې په هغه د هغوى د خاوندانو پوره ډاډينه (تسلي) او اعتماد پيدا شوى وي، چې اوس له هغه څخه د فائدې آخيستلو پوره قوت او نېټه رارسېدلې ده.

﴿أَتَىٰهَآ أَمْرُنَا﴾: الآيه ـ يعنې ناڅاپه د الله تعالى په حكم د شپې يا د ورځې له مخې كوم آفت (مثلا سخته سيلى يا ږلى يا ملخ يا نور) ورورسيږي، او على هذا القياس دغه آفت هغه زراعت بيخي داسې پنا كړي، ګواكې له سره هلته يوه خاشه نه وه زرغونه شوې، كټ مټ (هوبهو) د همدې په شان د دنيا ژوندون هم مثال لري، اګر كه دغه ژوندون ډېر حسين او تروتازه په نظر راشي، تر دې چې بې وقوف خلق د دې په رونق او ښايست باندې مين او مفتون شي، او اصلي حقيقت بيخي هېر كړي، ليكن د هغه زرغونتيا، ښايست، زينت د څو ورځو له مخې دى، چې ډېر ژر د فناء او زوال په لاس نسياً منسياً كيږي.

فائده: ﴿لَيْلًا أَوْ نَهَارًا﴾ «په شپه او ورځ كې» يې ښايي د دې لامله فرمايلي وي چې شپه د غفلت وخت وي، او په ورځې كې خلق عموماً ويښ وي، مطلب يې دا دى كله چې د الله تعالى حكم راورسيږي؛ بيا كه څوك ويښ وي كه اوده، غافل وي كه هوښيار؛ هيڅ يو سړى په هيڅ يوه حالت كې د هغه مخه نشي نيولى.

وَٱللَّهُ يَدْعُوٓا۟ إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَٰمِ ۖ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢٥﴾

او الله بولي (بندګان خپل) كور د سلامتيا ته (چې جنت دى)، او لاره ښيي هغه چا ته چې اراده وفرمايي (د هدايت د ده) لارې سمې ته (چې اسلام دى).

تفسير: يعنې د دنيا پر زائل او فاني ژوندون مه نازېږئ، او مه پرې تېر وځئ ! او د دار السلام يعنې د جنت په لورې راشئ ! پاك الله تاسې د سلامتى كور ته بولي، او تر هغه ځايه پورې يې د رسېدلو لاره هم درښوولې ده، همغه كور دى چې اوسيدونكي يې لـه هـر راز (قسم) رنځ، غـم، پريشانى، تكليف، نقصان، آفت، فنا، زوال او نورو عوارضو څخه صحيح او سالم پاتې كيږي، او پرښتې پرې سلام آچوي، او پخپله د رب العزّت جل جلاله له حضوره به هم د سلام تُحفې وررسيږي.

لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ ٱلْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ ۖ وَلَا يَرْهَقُ وُجُوهَهُمْ قَتَرٌ وَلَا ذِلَّةٌ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٦﴾

لپاره د هغو كسانو چې نيكي يې كړې؛ نېكه (جزا جنت) او زيات (له اجره هم شته)، او نه به پټوي مخونه د دوى هيڅ تور ګرد او غبار او نه هيڅ ذلت (رسوايي)، دغه (محسنان) صاحبان د جنت دي، همدوى په دغه جنت كې تل اوسيدونكي دي.

تفسير: يعني ښه کار کوونکو ته هلته ښه ځای (جنت) ورکړي، او له هغه څخه زيات هم ور په برخه کيږي، يعني د الله تعالى رؤيت (ليدل، ديدار، رزقنا الله تعالى).

د «زيادت» تفسير په لقاء الله او د الله تعالى په ليدلو سره په څو صحيحه وو احاديثو کې وارد شوی دی، او له ډېرو صحابه وو او تابعينو رضي الله تعالى عنهم أجمعين څخه منقول دي، صهيب رضي الله تعالى عنه وايي چې: «رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه آيت ولوست، او ويې فرمايل: «کله چې ځکرد جنتيان په جنت او ټول دوزخيان په دوزخ کې داخل شي؛ نو يو غږ کوونکی به غږ وکړي: «ای جنتيانو ! ستاسې لپاره د الله تعالى يوه وعده باقي ده، چې هغه اوس پوره کېدونکي ده»، جنتيان به وايي چې: «هغه څه شی دی؟ آيا پاک الله په خپل فضل سره ځمونږ د حسناتو پانګه نه ده درنه کړې؟ آيا ځمونږ مخونه يې سپين او نوراني کړي نه دي؟ آيا ده مونږ له دوزخه نه يو ژغورلي (بچ کړي)؟ او جنت غوندې يو لوی مقام ته يې نه يو داخل کړي؟» دلته د دوی له منځه به پرده لري کړل شي، او جنتيان به د الله تعالى په لوري نظر وکړي؛ نو قسم په الله چې د الله تعالى له هر قسم ورکړيو شويو نعمتونو څخه جنتيانو ته د الله تعالى ليدل به زيات محبوب او مطلوب وي»، او د دې په اندازه به بل هيڅ شی د دوی په سترګو کې ښه نه ورځي، او د دوی سترګې به نه يخوي، او نه يې رڼوي، پاک الله مو دې خپله لقاء پخپل فضل او کرم سره روزي کړي، او سترګې مو دې رونې او زړونه مو دې پرې خوښ کړي، آمين ثم آمين.

﴿وَلَا يَرْهَقُ وُجُوهَهُمْ﴾ الآيه ـ يعني د عرصات په محشر کې همغسې چې د فجّارو کفارو پر مخونو سخت ذلت، ظلمت، خواری او رسوايی ښکېږي او آثار به ښکاري، بالمقابل د هغه به د جنتيانو څېرې ډېرې نوراني، ښايسته او رونقداري وي، او بيخي د ملاحت او صباحت څخه به ډکې وي.

وَالَّذِينَ كَسَبُوا السَّيِّئَاتِ جَزَاءُ سَيِّئَةٍ بِمِثْلِهَا وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ مَا لَهُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ كَأَنَّمَا أُغْشِيَتْ وُجُوهُهُمْ قِطَعًا مِنَ اللَّيْلِ مُظْلِمًا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٧﴾

او هغه کسان چې کسب يې کړی دی د بدو (لکه کفر او نفاق) جزا د بدۍ (د دوی) په قدر د بدۍ ده، او پټوي به دوی لره ذلت (رسوايي)، نه به وي دوی ته له (عذابه د) الله هيڅ ساتونکی، ګواکې پټ کړی شوي دي مخونه د دوی په قطعو (ټوټو) د شپې سره حال دا چې تک تور به وي، دغه (مسيئان) صاحبان د اور دي، همدوی په دغه دوزخ کې تل اوسېدونکي دي.

تفسير: يعني له بدۍ څخه به يې سزا زياته نه وي.

﴿وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ﴾ يعني: د دوی څېرې به دومره توره تياره وي؛ ګواکې د تورې تيارې شپې توروالی د دوی په مخونو باندې لګېدلی دی، پاک الله مو دې له دغه مخ توروالي او نورو عذابونو څخه پخپل فضل او کرم سره وساتي. !

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا مَكَانَكُمْ أَنْتُمْ وَشُرَكَاؤُكُمْ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ وَقَالَ شُرَكَاؤُهُمْ مَا كُنْتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ ﴿٢٨﴾

او (ياد کړه ای محمده !) هغه ورځ چې راجمع به کړو دا خلق ټول، بيا به ووايو هغو کسانو ته چې شرک يې کړی دی: (ټينګ ودرېږئ) په ځايونو خپلو کې تاسې او (هم) شريکان ستاسې، نو بيلتون به وکړو مونږ په منځ د دوی کې، او وبه وايي شريکان د دوی (دوی ته) چې: نه وئ تاسې چې خاص مونږ لره به مو عبادت کولو.

تفسير: يعنې هغو کسانو چې پخپل خيال کې د الله تعالى لپاره شريکان درولي وو، يا ځينو ته يې د الله ځامن او لونې ويل، مثلا مسيح عليه السلام چې د نصاراوو په نزد «ابن الله» بلکه «عين الله» وو، يا «ملائكة الله» يا «أحبار» يا «رهبان» چې دوی ته هم له يوه حيثيته د الوهيت منصب ورکړی شوی وو، يا اصنام او اوثان چې د مکې مشرکانو پر دوی هم د الوهيت اختيارات تر يوې اندازې پورې تقسيم کړي وو، او هغه څوک چې د قبرونو عبادت کوي؛ په دې ګمان چې اولياء کرام ځمونږ د الله تعالى په نزد شفاعتګران دي؛ نو دغو ګردو ته به پخپلو ځايونو کې حسب المراتب د درېدلو حکم وشي.

فَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ إِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغٰفِلِينَ ﴿٢٩﴾

نو کافي (بس) دی الله شاهد په منځ ځمونږ او په منځ ستاسې کې؛ بېشکه شان دا دی چې: وو مونږ له عبادت ستاسې خامخا بې خبران.

تفسير: يعنې په دې دقّت کې به عجيبه پرېشاني او نفسي نفسي (ځان ځاني) وي، د عابدينو او معبودينو په منځ کې به بيلتون لويږي، او د اوهامو او خيالاتو هغه مزي چې پخپل خيال سره يې سم په دنيا کې تړلي وو؛ هغه ټول به شليږي، په دغه هولناک وخت کې کله چې مشرکينو د خپلو دغو فرضي معبودانو ځنې ډېر زيات توقعات (هيلې) درلودلې، هغوی به په ښکاره ډول سره جواب ورکړي، چې تاسې له مونږ سره څه تعلق لرئ؟، تاسې دروغ وايئ چې مونږ د دوی عبادت کولو، تاسې سم له خپلې عقيدې سره د هغو شيانو عبادت چې کولو او د هغو لپاره مو د الوهيت هغه صفات تجويزول چې په دوی کې له سره موجود نه وو؛ نو په حقيقت کې هغه بندګي د «مسيح» يا د «ملائکو» عبادت نه ګڼه شي، او نه دغه عبادت په واقع سره د بې روحو بتانو دی، بلکه تاسو د خپل خيال او وهم يا د لعين شيطان عبادت کولو، او هغه به مو پرښتې يا کوم نبي يا کوم ولي يا کومې څېرې يا نورو ته منسوبوو، پاک الله شاهد دی چې ځمونږ په خوښه يا رضا او اذن تاسې دغه حرکت نه دی کړی، مونږ نه وو خبر چې تاسې د خپل انتهايي حماقت او سفاهت او ناپوهۍ لامله مونږ د الله تعالى په مقابل کې معبودان دروئ.

هُنَالِكَ تَبْلُوا كُلُّ نَفْسٍ مَّا أَسْلَفَتْ وَرُدُّوا إِلَى اللّٰهِ مَوْلٰهُمُ الْحَقِّ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٣٠﴾

په دغه ځای کې به ښکاره ومومي هر يو نفس جزا د هغه عمل چې پخوا يې ليږلی دی، او بېرته به بوتلل شي دوی الله ته چې مولی د دوی دی حق (او واقعي واکدار د دوی دی)، او ورک به شي له دوی نه هغه دروغ چې وو دوی چې جوړول به يې (له شفاعت د بُتانو او نورو معبودانو).

تفسير: يعنې ټول دروغ او بې اصله توهمات به بيخي له منځه ورک شي، او هر څوک به په رأي العين ګوري چې پرته (علاوه) له هغه حقيقي مالک څخه د بل په لوري د رجوع کولو ځای نشته، او د هر يوه سړي به د خپلو ښو او بدو په اندازه کولو باندې علم ورسيږي، چې هغه څومره وزن او اندازه لري.

قُلْ مَنْ يَرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ أَمَّنْ يَمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَمَنْ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ ۚ فَسَيَقُولُونَ اللّٰهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣١﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) څوک رزق درکوي تاسې ته له جانبه د آسمانه (لکه په باران) او له ځمکې (لکه په نباتاتو)؟ بلکه آيا څوک دی چې مالک دی د (پيدا کولو د) غوږونو او د سترګو؟ او څوک دی چې راوباسي ژوندی (لکه بچی، مؤمن، عالم، کښت) له مړي (له هګۍ،

كافر، جاهل، دانه)؟ او راوباسي مړی (لکه نطفه) له ژوندي (لکه حيوان)؟ او څوک دی هغه چې تدبير کوي (د هر کار په منځ د خلقو کې)؟ نو ژر به ووايي دوی (چې هغه) الله دی، نو ووايه (ای محمده ! دوی ته !) نو آيا نه ويريږئ تاسې (له عذابه د الله).

فَذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ ۖ فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ ۖ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ﴿٣٢﴾

نو دغه (موصوف په دغو صفاتو) الله رب ستاسې دی حق، نو څه شی دي وروسته له حقه مګر ګمراهي، نو کوم خوا ته ګرځولی شئ تاسې (له حقه، سره د قيام د برهان په حقانيت د اسلام).

تفسير: مشرکينو به هم اعتراف کولو چې دغه کليه امور او عظيم الشأن کار ما سوا د الله تعالی څخه بل هيڅوک يې نشي کولی، نو ځکه يې وفرمايل: کله چې اصلی خالق او مالک او د تمام عالم مدبّر تاسې هم دغه پاک الله ګڼئ؛ بيا نو ولې نه ويريږئ چې ما سوا د دغه الله څخه نور خپل معبود وګرځوئ؟، وروسته د هغه د اقرار کولو څخه چېرې ژر تر ژره پر خپلو پوندو ببرته ګرځئ، کله چې په رښتيا سره همغه ذات واحد احد الله دی؛ وروسته له رښتيا څخه پرته (علاوه) له دروغو بل شی نه دی پاتې.

كَذَٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِينَ فَسَقُوا أَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾

همداسې (لکه چې ربوبيت لايق دی الله ته) لايق شو حکم (لازم شو عذاب) د رب ستا پر هغو کسانو چې نافرمانه دي د الله تعالی له حکم نه (په سبب د دې) چې دوی ايمان نه راوړي.

قُلْ هَلْ مِن شُرَكَائِكُم مَّن يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ ۚ قُلِ اللَّهُ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٣٤﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) آيا شته له دې شريکانو ستاسې هغه څوک چې پيدا کړي دی خلق په اول کې، بيا ژوندي کړي دوی (پس له مرګه)؟ ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې الله اول پيدا کوي خلق بيا ژوندي کوي يې (وروسته له مرګه)؛ نو کوم لوري ته اړول کېږئ تاسې (له سمې لارې، چېپې ته)؟.

تفسير: تر دې ځايه پورې د «مبدأ» ثبوت وو، اوس د «معاد» ذکر دی، يعنې کله مو چې اعتراف وکړ، چې د ځمکې او د آسمان او د سمع او بصر او د موت او د حيات او د ټولو پيدا کوونکی او اداره کوونکی هم دغه پاک الله دی؛ نو ظاهر دي چې د مخلوقاتو بيا پيدا کول او وروسته له مرګه بيا ژوندي کول او د دوی اعاده هم د همغه فعل کېدی شي، بيا د انبياوو عليهم السلام په ژبو کله چې دوی پخپله د هغه د اعاده کولو خبر ورکوي، د هغه په تسليم څه عذر شته؟

قُلْ هَلْ مِن شُرَكَائِكُم مَّن يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ ۚ قُلِ اللَّهُ يَهْدِي لِلْحَقِّ ۗ أَفَمَن يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ أَحَقُّ أَن يُتَّبَعَ أَمَّن لَّا يَهِدِّي إِلَّا أَن يُهْدَىٰ ۖ فَمَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿٣٥﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې آيا شته له دې شريکانو ستاسې هغه څوک چې لاره وښيي حق ته؟ (بيا هم) ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې الله لاره ښيي حق ته، آيا نو هغه څوک چې لاره ښيي حق ته ډېر لايق دی د دې چې متابعت يې وکړی شي؟ او که هغه چې (پخپله هم) لاره نشي موندلی؟ مګر چې ده ته لاره وښوولی شي، نو څه باعث دی تاسې لره، څرنګه حکم کوئ؟.

تفسير: د «مبدأ» او «معاد» په منځ کې د هدايت د واسطو او وسائلو ذکر دی، يعنې همغسې چې ړومبنی پيدا کوونکی او وروستنی ژوندی کوونکی همغه يو الله تعالی دی او بل څوک نه دی؛ نو همدغه پاک الله د خپلو بندګانو د «معاد» صحيح او رښتيا لار ښوونکی دی، نه بل څوک، او په مخلوقات کې: لوی دی که وړوکی؛ ټول د ده لارښوونې ته محتاج دي، د ده پر هدايت او لار ښوونه باندې ښايي چې ټول لاړ شي.

باطل معبود په څه حساب کی دی چې چاته لار ښوونه وکړي؟ آيا دی پخپله بې د بل چا له هدايته او مرستې (مدد) او لاس نيولو يو پل هم واخيستی شي؟ نو ځکه د ده لارښوونه د بندګانو په حق کې د قبول قابله او وړ نه ده، چې ګوندې الله تعالی بې واسطې د هغو لارښوونه کړي وي، بيا دا څومره بې انصافي ده، چې انسان هغه مطلق هادي پرېږدي، او د دغو باطلو او کمزورو معاونينو او لار ښوونکو پسې لويږي، او د همدوی اسره او هيله (اميد) ونيسي.

وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا ۚ إِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

او نه کوي متابعت اکثر د دوی مګر د ګمان (اټکل)، بېشکه ګمان (اټکل) نه بې پروا کوي (هيڅوک) له حقه د هيڅ څيز، بېشکه الله ښه عالم دی په هغه څه چې کوي (يې) دوی (نو جزا به ورکړي).

تفسير: کله چې معلوم شو چې «مبدي» او «معيد» او «هادي» همغه الله تعالی دی؛ نو د هغه په خلاف د شرک د لارې غوره کوونکو ته فکر کول پکار دي، چې د دوی په لاس کې کوم دليل او برهان شته؟ چې د هغه په بناء د «توحيد» قويم او قديم مسلک پرېږدي او ډګمراهی او ضلالت په کوهي کې ځانونه اچوي، رښتيا خبره خو دا ده: چې د دوی سره پرته له ظنونو او اوهامو او چټې او مهملو خبرو څخه بل هيڅ دليل او برهان نشته، نو د اټکل غشی د حق او صداقت په بحث کې څه کار ورکولی شي؟.

وَمَا كَانَ هَٰذَا الْقُرْآنُ أَنْ يُفْتَرَىٰ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَٰكِنْ تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ الْكِتَابِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٣٧﴾

او نه دی دا قرآن (سره له داسې فصاحته، بلاغته او اعجازه) چې په دروغو جوړ کړ شي غير له الله نه، وليکن دی تصديق (رښتينی) کوونکی د هغه (کتاب) چې تېر شوی دی په مخکې د ده، او دی تفصيل کوونکی د هغه څه چې ليکلي شوي دي (پر تاسو)، نشته هيڅ شک په ده کې (چې راغلی دی) له لوري د رب د عالميانو.

تفسير: د پاک قرآن علوم او معارف او احکام او قوانين او معجز او محير العقول فصاحت او بلاغت او جزالت باندې له نظر اچولو څخه دغه راڅرګندېږي چې: دغه پاک قرآن بېشکه همداسې يو کتاب دی، چې د پاک قدوس الله له لوري نازل شوی دی، او د ما سوا الله څخه بل هيڅوک داسې يو معظم کتاب نشي راوړاندې کولی.

پوره قرآن دې خو پخپل ځای پاتې وي، د هغه د يوه سورت له مثل راوړلو څخه هم ټول انسانان او پيريان عاجزان او ناتوان دي، لکه چې وروسته راځي: (او نه دی دا قرآن چې لولي يې محمد صلی الله عليه وآله وصحبه وسلم په تاسې داسې چې جوړ کړی شي د ځانه، بلکه هيڅوک يې نشي ويلی د ځانه غير له الله تعالی نه، يعنې داسې نه ښايي چې دا کلام د بشر وي ، وليکن رالېږلی دی الله پاک دا قرآن لپاره د تصديق د هر هغه کتاب چې تېر شوی دی په مخکې د ده، او په صدق يې هر څوک قايل دي، چې تورات او انجيل او زبور دی، او له دغو سره سم او مطابق دی، د دين په اصولو کې ډېر تعجب دی چې هغه حق شو او دغه نشو، بلکه د لوی قرآن کلام الاهيتوب له دې نه

ظاهر دی، چې د ګردو پخوانيو آسماني کتابونو مصدّق او د هغو د اصلي مضامينو حفاظت او د هغو د پخوانيو ويلو صداقت په علانيه ډول سره کوي.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّثْلِهِ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٣٨﴾

بلکه آيا وايي دوی چې (محمد) له ځانه جوړ کړی دی دغه (قرآن)، ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې؛ نو راوړئ يو (لنډ) سورت په شان د ده (په اعجاز کې) او راوبولئ تاسې هغه څوک چې ستاسې له لاسه کيږي (دې معارضې ته لپاره د معاونت خپل) غير له الله ځخه که يئ تاسې صادقان (رښتينې په دغه دعوی د افتراء کې).

تفسير: يعنې که ما دغه قرآن جوړ کړی وي؛ نو تاسې هم چې ما غوندې بشر يئ، ګرد سره راټول شئ، او د ده د يوه سورت پشان يو سورت راجوړ کړئ ! کـه د تمام جهان ليکونکي او لوستونکي او امیان سره راغونډ شي، او يو وړوکی سورت لکه قرآن غوندې راوړاندې کړي؛ نو وپوهيږئ چې قرآن عظيم الشأن هم د کوم يوه بشر کلام دی، چې د هغه مثال نور خلق جوړولی شي، مګر دغه خبره محاله ده چې تر أبد الآباد پورې کوم مخلوق داسې حوصله وکړی شي، او د قرآنکريم پرله پسې همغه دعـوی ده، چې زه د الله قدوس کلام يم، او همغسې چې د الله تعالی د ځمکې په شان بله ځمکه او د الله تعالی د لمر او د الله تعالی د آسمان په شان بل آسمان له پيدا کولو ځخه ټول جهان عاجز او حيران دی، همغسې د الله تعالی د قرآن په شان د بل بيان يا قرآن د اتيان ځخه هم ټول جهان عاجز او حيران دی.

﴿قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا﴾ (١٥ جزء د بني اسرائيل سورت (٨٨) آيت (١٠) رکوع) پر دغې مسئلې مو په هغې رسالې کې چې په (اعجاز القرآن) سره موسومه ده؛ په زړه پورې خبرې کړې دي، شايقين دې هغه ووايي.

بَلْ كَذَّبُوا بِمَا لَمْ يُحِيطُوا بِعِلْمِهِ وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ ﴿٣٩﴾

بلکه نسبت د دروغو يې وکړ په هغه قرآن چې پوره نه وو رسېدلی دوی په علم د هغه، او نه وو راغلی دوی ته معنی او حقيقت د دې قرآن، همداسې تکذيب کړی وو (د خپلو انبياوو) هغو کسانو چې وو پخوا له دوی نه، نو وګوره ته چې څرنګه وو عاقبت (آخره خاتمه) د ظالمانو (تکذيب کوونکو د انبياوو).

تفسير: يعنې پاک قرآن ته «مفتري» ويل د پوه او عقل کار نه، بلکه محض د ناپوهی، جهل، سفاهت او قلّت تدبر له جهته دی، او تعصب او عناد هغو ته اجازه نه ورکوي، چې په سړه سينه او قرار زړه د قرآن په حقائقو او د ده د اعجاز پر وجوهو غور وکړي !.

ځينو مفسرينو د «تأويل» معنی په «تفسير» سره کړې ده، يعنې د پاک قرآن مطالب د دوی په دماغو کې په پوره ډول سره نه دي لويدلي، او ځينې له هغه قرآني وړاندوينې مرادوي، يعنې د تکذيب يوه وجه د ځينو ناپوهانو او ساده کسانو په حق کې دا هم ده، چې د مستقبل په نسبت هغه اخبار چې پاک قرآن ورکړي دي، د هغو وقوع تر نن پورې نه ده شوې، نو ځکه دوی منتظر دي، چې د هغو ظهور به کله کيږي، مګر لږ فکر کول په کار دي، چې دغه د تکذيب سبب څرنګه کېدی شي؟ .

وَمِنْهُمْ مَّنْ يُؤْمِنُ بِهِۦ وَمِنْهُمْ مَّن لَّا يُؤْمِنُ بِهِۦ ۚ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِالْمُفْسِدِينَ ﴿٤٠﴾

او ځينې له دې (مکذبانو) هغه دي چې ايمان راوړي پر دغه (قرآن) او ځينې له دوی نه هغه دي چې ايمان نه راوړي په دغه (قرآن)، او رب ستا ښه عالم دی پر (حال د) مفسدانو.

تفسير: يعنې وروسته له دې نه له دوی ځنې ځينې کسان مسلمان کېدونکي دي، له هغو ځخه تاسې سترګې واړوئ ! باقي هغه کسان چې پر خپلو شرارتونو قايم پاتې کيږي؛ پاک الله پر هغو ټولو عالم دی، او په مناسبو موقعو کې به هغوی ته مناسبه سزا ورکوي.

وَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل لِّي عَمَلِي وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ۖ أَنتُم بَرِيئُونَ مِمَّا أَعْمَلُ وَأَنَا بَرِيءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٤١﴾

او که تکذيب وکړي دوی ستا؛ نو ووايه (ای محمده ! دوی ته) ماته (جزا د) عمل ځما ده، او تاسې ته (جزا د) عمل ستاسې ده، تاسې بېزاره يئ له هغه کار چې کوم يې زه، او زه هم بېزاره يم له هغه کارونو چې کوئ يې تاسې.

تفسير: يعنې که د داسې دلائلو او براهينو د اورېدلو ځخه وروسته هم دغه خلق ستاسې تکذيب وکړي؛ نو تاسې ووايئ چې: ما خو خپل فرض اداء کړی دی، مګر که تاسې سره له پوهولو هم نه پوهېږئ؛ نو اوس ځمونږ او ستاسې لاره بېله ده، تاسې د خپل عمل ذمه وار يئ، او زه د خپل عمل، هر چا ته به د ده د عمل ثمره ور په برخه کيږي.

وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ ۚ أَفَأَنتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ وَلَوْ كَانُوا لَا يَعْقِلُونَ ﴿٤٢﴾ وَمِنْهُم مَّن يَنظُرُ إِلَيْكَ ۚ أَفَأَنتَ تَهْدِي الْعُمْيَ وَلَوْ كَانُوا لَا يُبْصِرُونَ ﴿٤٣﴾

او ځينې له دې کفارو هغه کسان دي چې غوږونه نيسي تا ته (تمسخراً يا ظاهراً)، آيا نو ته اورول کولی شې کانړه ته؟ (بلکه نشې کولی) او اګر که وي دوی چې هيڅ عقل هم نه لري، (سمع او عقل يې دواړه ورک وي). او ځينې له دوی هغه دي چې ګوري تاته (د سر په سترګو)، آيا نو ته به لاره وښيې ړندو ته؟ او اګر که وي دوی چې هيڅ بصيرت (او پوه) نه لري (يعنې نه يې شې پوهولی).

تفسير: ځينې خلق اګر که په ظاهره سره لوی قرآن او د رسول الله مبارک کلام آوري، او د دوی معجزات او کمالات ګوري، مګر هغه اورېدل او ليدل نافع دي چې د زړه په غوږونو او د زړه په سترګو سره وي، دا ستاسې په اختيار کې نه ده؛ چې کنو زړونو او کنو غوږونو ته خبره واوروې، په دې حال کې چې دوی د زيات کانړه توب لامله قطعاً په حق کلام باندې نشي پوهېدی، يا ړندو زړونو ته د حق لار وښوولی شې؛ کله چې په دوی کې د بصيرت ماده نشته.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ النَّاسَ شَيْئًا وَلَٰكِنَّ النَّاسَ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٤٤﴾

بېشکه چې الله نه کوي ظلم پر خلقو هيڅ قدر، وليکن خلق پر نفسونو (ځانونو) خپلو ظلم کوي (چې خپل عقل او حس په ملاهيو کې په کار آچوي).

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَأَن لَّمْ يَلْبَثُوا إِلَّا سَاعَةً مِّنَ النَّهَارِ يَتَعَارَفُونَ بَيْنَهُمْ ۚ قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِلِقَاءِ اللَّهِ وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿٤٥﴾

او هغه ورځ چې (پس له مړکه الله) راجمع کړي کفّار حال دا لکه چې نه وو تېر کړی دوی (په دنیا یا په قبر کې) مګر په قدر د یوه ساعت له ورځې؛ پېژني به دوی یو تر بله پخپلو منځونو کې (په دغې ورځې کې)، په تحقیق زیانمن شوي دي هغه کسان چې تکذیب یې کړی دی د ملاقات د الله، او نه وو دوی سمه صافه لاره موندونکي.

تفسیر: یعنې د محشر د هولناکو اهوالو او حوادثو د لیدلو څخه د ټول عمر، عیش، عشرت، آرامتیا او هوسایي دومره حقیره او قلیله په نظر ورځي، چې ګواکې په دنیا کې یې د یوه ګړی څخه زیاته هستوګنه نه وي کړي، او افسوس به کوي چې ټول عمر مې څومره په فضول او بېکاره تېر شوی دی، لکه چې سړی یوه ګړی یا دوه ګړی همداسې په چټې او چپو خبرو کې تېروي، او هم د هغه ځای د زړه چاودونکو مصائبو د لیدلو څخه داسې خیال کوي، چې ګواکې په دنیا کې دومره زیات نه دی پاتې شوی، او دغه وېرووونکی وخت یو ناڅاپه رارسېدلی دی، هلته تش یو ساعت یا دوه ساعته پاتې شوی یم، او دغه دی چې سمدلاسه دلته رسېدلی او په دغو تکلیفونو کې اخته شوی یم، کاشکې د هغه ځای د قیام مدت مې لږ څه ډېر وی، او دغې بدې ورځې ته دغسې ژر نه وی رسېدلی، ځینې مفسرین وایي چې: د برزخ (قبر) هستېدلو مدت به ورته لکه یوه ګړی ښکاري، والله أعلم.

وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ اللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ ﴿٤٦﴾

او یا خو به وښیو خامخا تاته ځینې له هغه عذاب چې وعده یې کوو له دوی سره، او یا به وفات کړو تا (پخوا له تعذیب د دوی)؛ نو خاص مونږ ته بیا راتله د دوی دي، بیا نو الله شاهد دی په هغو کارونو چې کوي یې دوی (نو د دوی تعذیب به تاته دروښیو په آخرت کې).

تفسیر: یعنې هغه وعدې چې مونږ د کفارو د عذاب ورکولو او د اسلام د غالب او منصور ګرځولو کړي دي، لکه د «بدر» او نور مظفریت یا وروسته د وفات ستاسې به په عمل راځي؛ نو بنا پر دغه که ستاسې په حضور کې د هغو ظهور رانشي، په هر صورت دغه (وعدې) یقیني دي؛ چې هغه به ټولې پوره کېدونکې وي، که بنا پر کوم مصلحت کفارو ته په دنیا کې سزا ورنه کړه شي؛ نو په آخرت کې به وررسېږي، ځمونږ له لاسه دوی نجات نشي موندلی، او نه تښتېدلی شي.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَسُولٌ فَإِذَا جَاءَ رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٤٧﴾

او لپاره د هر امت یو رسول دی، نو کله چې را به غی (دوی ته) رسول د دوی (او دوی به ونه مانه)؛ نو حکم به وکړ شو په منځ د دوی کې په انصاف سره (چې رسول او مؤمنانو نجات وموندە او مکذبین هلاکېدل) حال دا چې دوی به مظلومان نه وو (په دغه تعذیب کې).

تفسیر: پخوا له دې نه د دې امت او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ذکر وو، اوس د نورو اقوامو او اممو ضابطه راښیي، چې هر جماعت او هرې فرقې ته د الله تعالی پیغام رسونکی رسول (استازی) ورلېږلي شوي دي، تر څو د الله تعالی حجّت تمام شي، د حجّت د اتمامه څخه پخوا هیڅوا ته عذاب نه ورکولی کیږي، خلق عمل لا له پخوا څخه کوي، مګر په دنیا کې هغو ته سزا وروسته د رسول د رسېدلو او د حجّت له اتمامه ورکوله شي.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٤٨﴾

او وایي دوی (په مسخرو یا په استبعاد) کله به وي دغه وعده که یئ تاسې صادقان (په دغه وعده کې؛ نو رایې ولئ).

قُلْ لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِي ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا إِلَّا مَا شَآءَ اللَّهُ ۗ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۗ إِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٤٩﴾

ووايه (اى محمده !) نه يم مالك لپاره د ځان خپل (د دفع كولو) د ضرر او نه (د رسولو) د نفعې مګر د هغې (نفعې او ضرر) چې اراده وفرمايي الله، لپاره د هر امت يوه نېټه ده (د هلاک)، کله چې راشي هغه اجل (نېټه د مرګ) د دوی؛ نو نه به وروستی کيږي دوی (د دغې نېټې خپلې نه) يو ساعت او نه ړومبی کيږي دوی.

تفسير: يعنې د عذابونو او نورو درلېږل د الله تعالی کار دی، او هغه ځما په قبضه او اختيار کې نه دی، زه خو د خپلې نفعې يواځې دومره مالک يم، چې هومره د الله تعالی اراده وي، نو بيا پر نورو د نېکۍ يا د بدۍ د وارد کولو مستقل اختيار ماته له کومه شو؟ د هر قوم لپاره يو مدّت او ميعاد د الله تعالی په علم کې مقرر دی، کله چې هغه ميعاد پوره شي؛ نو هغه وقت به ورسيږي، د بنو د يوه رپ په اندازه تخلف په کې نه کيږي.

الغرض د عذاب د ژر غوښتلو څخه تاسې ته هيڅ يوه فائده په لاس نه درځي، هغه وقت چې د الله تعالی په علم کې غوټه او ټاکلی (مقرر) او معين شوی دی، هغه يوه دقيقه نه وړاندې او نه وروسته کيږي، او پوره په همغه وقت کې رسېدونکی او ورځکېدونکی دی.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُهُۥ بَيَٰتًا أَوْ نَهَارًا مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ الْمُجْرِمُونَ ﴿٥٠﴾

ووايه (اى محمده ! دوی ته چې) آيا وينئ تاسې (يعنې خبر راکړئ ماته) که راشي تاسو ته عذاب د الله د شپې يا د ورځې؛ نو څه به وي هغه (عذاب) چې په جلتي سره غوښت له هغه نه مجرمانو (کافرانو)؟. (يا) نو څه به وکړي پخوا له هغه څخه مجرمان (ګناهګاران). (يا) نو څه دی هغه (عذاب) چې تلوار کوي په راتلو د هغه مجرمان (کافران).

تفسير: يعنې که د شپې اوده وي، يا د ورځې کله چې په دنيوي کارونو کې لګيا وئ، که يو ناڅاپه د الله تعالی عذاب يې ونيسي؛ نو که مجرم په دغه صورت کې جلتي هم وکړي؛ نو څرنګه به خپله ژغورنه (بچاو) او نجات وکړی شي؟ کله چې خپل ځان نشي ژغورلی (بچ کولی)؛ نو بيا د وخت د پوښتنې کولو څخه څه فائده وررسيږي؟ .

أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ ءَامَنتُم بِهِۦٓ ۚ ءَآلْـَٰٔنَ وَقَدْ كُنتُم بِهِۦ تَسْتَعْجِلُونَ ﴿٥١﴾

آيا کله چې واقع شي (دغه عذاب) نو ايمان به راوړئ تاسې په هغه، (الله فرمايي): آيا اوس (ايمان راوړئ چې عذاب نازل شو) حال دا چې په تحقيق وئ تاسې چې په (غوښتلو د) دغه (عذاب) به مو جلتي کوله.

تفسير: يعنې د عذاب دغه ژر غوښتنه د دې لپاره کوي چې هغوی د عذاب په نزول نه دي متيقن، که دوی په دغه وخت کې متيقن کېدل؛ نو فائده يې ورته رسوله، او د خپل نجات لپاره به يې کوښښ کولو، که د عذاب د راتګ څخه وروسته يې يقين راشي؛ نو څه فائده به ور ورسيږي؟ په دغه وخت کې به د الله تعالی لوري ويل کيږي، چې ښه اوس خو تاسې قائلان شوئ، حال دا چې پخوا مو دغه دروغ بلل، ځکه چې تقاضا کول هم د دروغ ګڼلو او مسخرو کولو په نيت وو، که نه دغه وخت د اقرار کولو څخه هيڅ يوه فائده به در ونه رسيږي.

﴿ فَلَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا قَالُوٓا ءَامَنَّا بِاللَّهِ وَحْدَهُۥ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهِۦ مُشْرِكِينَ ﴿٨٤﴾ فَلَمْ يَكُ يَنفَعُهُمْ إِيمَٰنُهُمْ لَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا ۖ سُنَّتَ اللَّهِ الَّتِى قَدْ خَلَتْ فِى عِبَادِهِۦ ۖ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكَٰفِرُونَ ﴾ (٢٤ جزء د المؤمن سورت (٨٤ - ٨٥) آيت (٩) رکوع).

ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذُوقُوا عَذَابَ الْخُلْدِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٥٢﴾

بيا به وويل شي هغو كسانو ته چې ظلم يې كړى وي: وڅكئ عذاب (دائم) د همېشكى، آيا سزا به دركولى شي تاسې ته (دركولى به نشي) مګر په سبب د هغه شرك او تكذيب چې وئ تاسې چې كول به مو، (يا) نه دركولى شي جزاء مګر په سبب د هغې چې وئ تاسې چې كول به مو (چې هغه شرك او تكذيب ستاسو دى).

وَيَسْتَنْبِئُونَكَ أَحَقٌّ هُوَ قُلْ إِي وَرَبِّي إِنَّهُ لَحَقٌّ وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ ﴿٥٣﴾

او پوښتنه كوي له تا نه چې آيا حق دى دا (قرآن يا دعوى د نبوّت يا عذاب؟ كه مسخرې كوې؟) ووايه (اى محمده ! دوى ته) هو ! قسم دې وي ځما په رب خپل چې بېشكه دغه خامخا حق دى، او نه يئ تاسې عاجزوونكي (د الله چې له عذابه يې ځان خلاص كړئ).

تفسير: يعنې د غفلت په نشه كې بې سده شوي په تعجب سره پوښتنه كوي چې: آيا دغه خبره رښتيا ده چې مونږ وروسته له مرګه بيا ژوندي كيږو؟ او د دائمي عذاب خوند به وڅكو؟ آيا په رښتيا سره وروسته له بڅركي بڅركي كېدلو او له خاورو سره ګډېدلو به بيا له نوي ژوند سره ژوندي كيږو؟، (اى محمده !) تاسو وفرمايئ دوى ته چې دا څه د تعجب خبره ده؟ ! دغه پېښه خو هرومرو باليقين كېدونكې ده، ستاسې ګډ كېدل په خاوره كې او بڅركي بڅركي كېدل الله تعالى له دغه څخه نه شي عاجزولى چې د پخوا په شان بيا تاسې همغسې پيدا كړي او د شرارتونو خوند دروڅكوي.

وَلَوْ أَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِي الْأَرْضِ لَافْتَدَتْ بِهِ وَأَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٥٤﴾

او كه بېشكه (مملوك شي) لپاره د هر نفس چې ظلم يې كړى وي (پخپل ځان باندې په كفر او شرك سره) ټول هغه چې دي په ځمكه كې؛ نو خامخا به فديه وركړي دغه نفس په دغه (هر څه سره؛ له عذابه) او وبه مومي دوى (په زړونو خپلو كې ـ په ترك د ايمان) پښېماني كله چې وويني عذاب او فيصله به وكړه شي په منځ د دوى كې په انصاف او حال دا چې دوى به مظلومان نه وي.

تفسير: يعنې كه فرضاً د ځمكې د مخ ټولې خزانې د ده په قبضه كې وي؛ نو كوښښ به وكړي چې هغه ټول وركړي، او د الله تعالى له عذابه ځان وژغوري (بچ كړي)، (كله چې دوى لره مالكيت د ﴿فِي الْأَرْضِ﴾ نشته؛ نو فديه وركول هم نشته، او له عذابه هم نجات نه نومي، او ښكاره به كړي دوى پښېماني يا پټه به يې كړي، او وبه مومي دوى په زړونو خپلو كې پښېماني په ترك د ايمان سره، او دا ځكه چې دا لفظ د «أسروا» له اضدادو څخه دى، نو ځكه اطلاق يې پر دواړو صحيح دى، يعنې او بيا به مومي دوى په زړونو خپلو كې درد او پښېماني او) پخپلو حركاتو به پښېمانيږي، او غواړي به چې نور خلق د دوى پر دغې پښېمانۍ خبر نشي، مګر بالآخر بې اختياره به هغه ښكاره كوي، او په هغه وخت كې به ووايي: ﴿يَا حَسْرَتَى عَلَى مَا فَرَّطْتُ فِي جَنْبِ اللَّهِ﴾ ﴿يَا وَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِي غَفْلَةٍ مِنْ هَذَا﴾.

أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَلَا إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٥﴾

واورئ خبردار شئ ! چې بېشكه خاص الله لره دي هر هغه څه چې په آسمانونو او په ځمكه كې دي (سره له آسمانونو او ځمكې ملكاً وخلقاً وعبيداً)، واورئ خبردار شئ ! چې بېشكه وعده د الله حقه ده، وليكن زيات له خلقو (چې كفّار دي) نه پوهيږي.

تفسير: يعني په ګرد جهان کې يوائې د پاک الله حکومت دی، او د عدل او انصاف اجراءات کيږي، او هيڅ مجرم به ترې ونشي تښتېدی، او نه هيڅ يو مجرم به په رشوت او بډې ورکولو خپل ځان ژغورلی (بچ کولی) شي.

هُوَ يُحْيِۦ وَيُمِيتُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٥٦﴾

همدغه (الله) ژوندي کول او مړه کول کوي، او همده ته بيا بيولي کېږئ (په قيامت کې لپاره د جزا).

تفسير: کله چې ژوندي کول او مړه کول دالله تعالی فعل او کار دی، نو د دوهم ځلي ژوندي کول به ورته څه اشکال ولري؟.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِى ٱلصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥٧﴾

ای خلقو ! په تحقيق راغلې ده تاسې ته موعظه (پند) له جانبه د رب ستاسې او شفاء (دارو) لپاره د هغو (ټولو روحاني امراضو) چې دي په سينو (د خلقو کې د جهالت) او هدايت او رحمت دی لپاره د مؤمنينو.

تفسير: دغه ټول د قرآنکريم صفات دي، «قرآن عظيم» له اوله تر آخره پورې داسې پند دی؛ چې خلق له مضرو او مهلکو خبرو ځنې ژغوري (بچ کوي)، د زړونو د روحاني رنځوری لپاره د شفاء نسخه ده، د وصول الی الله او د الله تعالی د رضا لپاره ښوونکی دی، او خپل قبلوونکی په دنيا او آخرت کې د الله تعالی د رحمت وړ او مستحق ګرځوي، د ځينو محققينو په نزد په دغه آيت کې د انساني نفس د کمال مرتبو ته اشاره ده، يعنې هر هغه سړی چې قرآن کريم باندې متمسک شي، په دغو ټولو مراتبو باندې کاميابېدی شي:

(۱): خپل ځان د نالايقو افعالو څخه د پاکولو په لوري، د ﴿مَّوْعِظَةٌ﴾ په لفظ کې اشاره ده.

(۲): خپل باطن د فاسده وو عقائدو او ردیئه وو ملکاتو څخه تش کول، له ﴿وَشِفَآءٌ لِّمَا فِى ٱلصُّدُورِ﴾ څخه مفهوميږي.

(۳): خپل نفس په حقه وو عقائدو او فاضله وو اخلاقو سره ښايسته کول، چې د هغه لپاره د ﴿وَهُدًى﴾ لفظ زيات مناسب دی.

(۴): د ظاهرو او باطنو د سازولو څخه وروسته الله تعالی جل جلاله د رحمت انوار پر نفس فيض کېدل، چې د ﴿وَرَحْمَةٌ﴾ د لفظ مدلول دی.

قُلْ بِفَضْلِ ٱللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا۟ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٥٨﴾

ووايه (ای محمده ! مؤمنانو ته) په فضل د الله سره او په رحمت د الله سره؛ نو په همدغه (فضل او رحمت) دې خوشاله شي مؤمنان، (ځکه چې) دغه (فضل او رحمت) ډېر غوره دی له هغو مالونو چې جمع کوي (يې) دوی.

تفسير: يعنې ووايه ای محمده ! مؤمنانو ته چې خوشاله اوسئ په هغه فضل د الله تعالی سره چې په تاسې دی، چې هغه قرآنکريم يا خلود دی، يا لقاء او رضاء د الله تعالی ده، او په رحمت (او مهربانی) د الله تعالی سره چې پر تاسې دی، او هغه رحمت محمد رسول الله يا توفيق يا عصمت يا نجات دی، پس ښايي په دې رالېږلې شويو دې خوشاله شي دوی، ځکه چې دنيوي مال او متاع لره هيڅ بقاء او وفاء نشته.

قُلْ أَرَءَيْتُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ لَكُم مِّن رِّزْقٍ فَجَعَلْتُم مِّنْهُ حَرَامًا وَحَلَٰلًا قُلْ ءَآللَّهُ أَذِنَ لَكُمْ أَمْ عَلَى ٱللَّهِ تَفْتَرُونَ ﴿٥٩﴾

ووايه آيا وينئ تاسې (يعنې خبر راكړئ ماته د) هغه څيز چې نازل كړى دى الله تاسو ته له رزق څخه، نو ځكرځولى دى تاسې له دغه رزق څخه (ځينې) حرام او (ځينې) حلال، ووايه (اى محمده ! دوى ته): آيا الله اذن كړى دى تاسې ته (په دغه تحليل او تحريم كې، نه) بلكه په الله پورې دروغ تړئ تاسې (له ځانه).

تفسير: يعنې پاك قرآن چې د نصيحت، شفاء هدايت او رحمت په صورت رانازل شوى دى، همغه د استناد او تمسّك كولو وړ او لايق دى، د الله تعالى د احكامو معرفت او د حلالو او حرامو تميز په همدغه سره كېدى شي، دغه بابيزه (خوشې) خبرې او واهيات دي، چې الله تعالى ستاسې د انتفاع لپاره هر قسم روزي پيدا كړې ده، بيا تاسې تش پخپلو آراوو او أهواوو په هغو كې يو شى حلال او بل شى حرام دروئ، آيا تاسې د دې خبرې څه حق لرئ چې پخپل سر او له خپله ځانه د تحليلولو او تحريمولو په نسبت فيصلې كوئ؟ آيا تاسې د داسې خبرو كولو جرأت كولى شئ؛ چې الله تعالى داسې حكم مونږ ته راكړى دى؟ يا همداسې له خپله ځانه پر الله تعالى دروغ تړئ؟ په وروستني آيت كې يې په صاف ډول سره اشاره فرمايلې ده، چې دغه پرته له افتراء على الله بل هيڅ شى نه ده.

تنبيه: د هغو شيانو مفصله تذكره چې دوى هغه په خپل سر حلال او حرام درولي وو؛ د «المائدې» او د «الأنعام» په سورتونو كې تېره شوې ده.

وَمَا ظَنُّ ٱلَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٦٠﴾

او څه شى دى ګمان د هغو كسانو چې له ځانه تړي پر الله باندې دروغ په ورځ د قيامت كې (چې څه به ورسره وكړي الله)؟، بېشكه الله خامخا څښتن (خاوند) د فضل دى پر خلقو، وليكن اكثره خلق نه وباسي شكر (په دغو نعماوو).

تفسير: يعنې دا خلق د قيامت په نسبت څه خيال كوي؟ چې له دوى سره به څه قسم معامله كيږي، په سختۍ به ونيول شي؟ كه ورو به خوشې كړل شي؟ عذاب او ربړ (تكليف) به وګالي (برداشت كړي)؟ كه نه؟ په څه څه خيالاتو كې ډوب تللي دي؟، ښايي چې دوى دغه خبره ښه په ياد ولري، هر هغه سزا چې دوى ته وركوله كيږي؛ هغه خامخا دوى ته رسېدونكې ده، او له سره هغه بېرته كېدونكې نه ده.

الله تعالى په خپل فضل سره خلقو ته په دنيا كې ډېر مهلت وركوي، او له ډېرو تقصيراتو څخه يې تېرېږي، ليكن ډېر خلق د الله تعالى د دغه تلطيف په مقابل كې د شكر ايستلو او منتبه كېدلو په ځاى لا زيات زړور او بې خوفه كيږي، بالآخر دوى بيخي د سزا وركولو وړ او مستحق ګرځي.

وَمَا تَكُونُ فِى شَأْنٍ وَمَا تَتْلُوا۟ مِنْهُ مِن قُرْءَانٍ وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ ۚ وَمَا يَعْزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِى ٱلسَّمَآءِ وَلَآ أَصْغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرَ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٦١﴾

او نه يې ته (مشغول) په كوم كار كې (له خپلو كارونو) او نه لولې ته (هيڅ آيت، سورت) له دې نه (يعنې) له قرآنه، او نه كوئ (اى انسانانو كوم كار) له كارونو څخه مګر اوسو مونږ پر تاسې

شاهدان کله چې مصروف (بوخت) اوسېږئ تاسې په هغه کې، او نه غائب کېږي له ربه ستا په اندازه د يوې ذرې (واړه ميږي يا پوتې د ګرد نه) په ځمکه کې، او نه په آسمانونو کې، او نشته ډېره وړوکې له دغې ذرې څخه، او نه ډېر غټ (له دې نه) مګر (دا ټول ليکلي پراته دي) په کتاب واضح (ښکاره په لوح محفوظ) کې.

تفسير: يعنې د پاک قرآن په وسيله هغه جهاد چې دوی يې کوي؛ هغه ټول د الله تعالى په حضور کې دی، او خلق هغه ښې يا بدې معاملې چې کوي؛ هغه هم ټولې د الله تعالى په حضور کې ظاهرې پرتې دي، هر کله چې کوم مخلوق په کوم کار کې لاس پورې کوي، او په هغه کې مشغول او لګيا کېږي، اګر که د دوی په فکر او خيال کې د پاک الله فکر او تصور هم تېر نشي؛ مګر الله تعالى يې له ابتداء څخه تر انتهاء ګوري، (فان لم تكن تراه فانّه يراك)، په ځمکه او آسمان هر چېرې چې د يو ذرې په اندازه يا له هغه څخه وړوکی يا لوی کوم شی هم وي؛ هغه ټول د الله تعالى په علم محيط کې شته، او له سره تر پې نه غائبېږي، بلکه د الله تعالى د علمه راښکته هم د ټول (ما كان و ما يكون) حال په کتاب مبين يعنې لوح محفوظ کې ثبت دی، چې هغه ته د تدبير په عالم کې ښايي د الله تعالى د علم صفحه وويلی شي.

أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾

واورئ خبردار شئ ! چې بېشکه دوستان د الله نشته هيڅ قسم وېره په دوی (له کوم مکروه) او نه به دوی خفه کېږي (هيڅېږي له فوت د کوم مأمول نه).

تفسير: ابن كثير «رحمه الله» د حديثيه وو روایاتو په بنا دغه مطلب بيان کړی دی چې: «اولياء الله (د الله دوستانو) ته به په آخرت کې د محشر د اهوالو او وېرو څخه هيڅ خوف او وېره نه وي، او نه د دنيا د پرېښودلو څخه دوی خفه کېږي»، ځينې مفسرينو دغه آيت عام ايښي دی: يعنې په هغو به د اند ښنې او د پرېشانۍ او د حوادثو د وقوع خوف نه په دنيا کې او نه په آخرت کې وي، او نه د کوم مطلوب فوتېدلو څخه به مغموم اومتأثر کېږي.

ګواکې د خوفه د الله خوف يا له غمه د آخرت د غم نفي مراده نه ده، بلکه په دنيا کې د دنيوي خوف او غم نفي مراده ده، چې د هغې احتمال د أعداوو او د نورو په مخالفت باندې کېدی شي، چې هغه به کاملينو مؤمنينو ته له سره نه پېښېږي، او دوی به هر وخت په پاک الله اعتماد او اطمينان لري، او د ټولو تکوينيه وو واقعاتو په نسبت داسې اعتقاد لري، چې هغه خامخا په يو حکمت او مصلحت مبني وي، نو دغه اعتماد او اعتقاد له استحضاره دوی ته خوف او غم او هيڅ تکليف نه رسوي.

ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾

(دغه دوستان) هغه کسان دي چې ايمان لري او وي دوی چې ځان ساتي (له معاصيو او وېرېږي له الله نه).

تفسير: دا د «أولياء الله» تعريف فرمايي، يعنې متّقي مؤمن د الله تعالى ولي دی، پخوا له دې نه په څو ځايونو کې معلوم شوي دي، چې د ايمان او تقوى ډېر مدارج دي، نو د ايمان او تقوى هره درجه چې په هر چا کې موجوده وي؛ په هغې درجې به د ولايت يوه برخه ورثابتېږي، مثلا لس شل او سل روپی هم مال، او پنځه سوه او زر، پنځوس زره، يو لک، يو مليون هم مال دی، ليکن په عام عُرف کې د لس او شل او سل روپی لرونکي مالک ته شتمن او مالدار نه ويل کېږي، تر څو چې «معتدّ به» د مال او دولت مقدار د چا سره نه وي، همداسې وپوهېږئ چې ايمان او تقوى هم په هره مرتبه کې چې وي؛ هغه د ولايت يو شُعبه ده، او په دې حيثيت ټولو مؤمنانو ته في الجمله ولي ويل کېدی شي، ليکن په عُرف کې ولي هغه ته ويلی شي، چې په کې د ايمان او تقوى يوه خاصه درجه وموندلی شي.

لَهُمُ الْبُشْرٰى فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ۭ لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۭ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝٦٤

دوی ته زېرى دى په دغه ژوندون لږ خسيس کې او په آخرت کې، نشته هيڅ بدلول د کلماتو د الله (تعالى) ته، دغه (زېرى د دواړو جهانو) هم دغه دى برى ډېر لوى.

تفسير: اولياوو ته په دنيا کې څو ډوله بشارات دي، مثلا حق تعالى هغو ته د انبياوو عليهم السلام په ژبه د ﴿وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ﴾ او نورو زېرې ورکړي دي، يا به پرښتې د موت په قريبېدلو هغو ته وايي: ﴿وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ﴾ (٢٤ جزء د حم السجده سورت (٣٠) آيت (٤) رکوع).

يا به ډېر رښتين او مبارک خوبونه ويني، يا د هغو په نسبت د الله تعالى نور بندګان ښه خوبونه ورته ويني، چې د صحيح حديث سره موافق د نبوت د شپږ څلويښتو اجزاوو څخه يو جزء دى، يا د دوى په معاملو کې د الله تعالى له لورې به يو خاص قسم تاييد او امداد کېږي، يا په خواصو کې او کله له خواصو ځنې تجاوز کوي په عوامو کې هم ده ته مقبوليت حاصليږي، او خلق د ده مدح او ثناء او د خير ذکر او ستاينه کوي، دغه ټول شيان تر دنيوي بشاراتو لاندې درجه په درجه راتلى شي، مګر په اکثرو رواياتو کې د ﴿لَهُمُ الْبُشْرٰى فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾ تفسير په صالحه وو رؤياوو سره کړى شوى دى، والله أعلم.

پاتې شول اخروي بشارات هغه پخپله په پاک قرآن کې منصوص دي ﴿بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ﴾ او په حديث کې هم دغه تفسير منقول دى.

وَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ اِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۭ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝٦٥

او نه دې خفه کوي تا (اى محمده !) خبرې د دوى (چې الله نه مني او ستا تکذيب کوي او ډاروي دې) بېشکه چې زور خاص الله لره دى ټول، هم دى ښه اوربدونکى (د ټولو اقوالو) ښه خبردار (په ټولو احوالو).

تفسير: په دې آيت کې رسول الله ته تسلي ورکوي؛ چې تاسې د احمقانو او شريرانو له خبرو څخه مه خفه کېږئ ! ټول زور او غلبه د الله تعالى په لاس کې ده.

اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ ۭ وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُرَكَاۗءَ ۭ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ۝٦٦

واورئ خبردار شئ ! چې بېشکه خاص الله لره دي هر هغه څوک چې په آسمانونو کې دي (لکه پرښتې) او هغه څوک چې په ځمکه کې دي (لکه انسانان، پيريان سره له آسمانونو او ځمکې ملکاً خلقاً او عبيداً)، او نه کوي متابعت هغه کسان چې بولي (عبادت کوي) دوى غير د الله د شريکانو (چې په واقع کې شريکان نه دي له الله سره)، متابعت نه کوي دوى د (هيڅ شي) مګر د ګمان (خپل چې دا بُتان او معبودان شريکان دي د الله سره)، او نه دي دوى مګر دروغ وايي (اټکلونه چلوي په دې نسبت د شرک کې).

تفسير: يعنې په ګردو آسمانونو او ځمکو کې د واحد احد الله سلطنت دى، ګرد انس او جن او ملک د الله تعالى مملوک او مخلوق دي، د مشرکانو دغه غير الله بلل او دوى الله تعالى سره حصه دار ګرځول؛ يواځې په توره تياره کې غشي وهل، او واهي، تباهي خيالات دي، د دوى په لاسونو کې نه کوم حقيقت شته، او نه څه حجّت او برهان، تش د اوهامو او ظنونو په تيارو کې خپل سرونه او پښې ژوبلوي.

هُوَ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الَّیْلَ لِتَسْكُنُوْا فِیْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یَّسْمَعُوْنَ ﴿۶۷﴾

الله همغه ذات دی چې ګرځولې یې ده تاسې ته شپه (تیاره) لپاره د دې چې آرام شئ تاسې په دې کې، او (ګرځولې یې ده) ورځ ښوونکې (روښانه)، بېشکه په دغه (ظلمت او نور) کې خامخا ډېر دلایل (د قدرت او وحدانیت) دي لپاره د هغه قوم چې اوري دغه قرآن (په غوږونو د زړه).

تفسیر: د شپې او د ورځې او د نور او ظلمت پیدا کوونکی همغه یو الله دی، خیر او شر او د ټولو متقابلو اشیاوو خالق هم دی دی، په دغه سره د مجوسو دغه عقیده تردید شوه، او په دې لوري هم یوه لطیفه اشاره وشوه، همغسې چې د شپې له تیارو څخه وروسته پاک الله روښانه ورځ راولي، او د لمر په رڼا کې ټول هغه شیان صاف په نظر راځي چې د شپې تیاره کې نه ښکاریده؛ همداسې د مشرکینو د اوهامو او د ظُنونو د پردې لرې کېدلو څخه وروسته د قرآنکریم د لمر رڼا وځلیږي، چې خلقو ته د وصول الی الله پوره سمه لاره ښوونکی دی.

قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ الْغَنِیُّ ؕ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ اِنْ عِنْدَكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ بِهٰذَا ؕ اَتَقُوْلُوْنَ عَلَی اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۸﴾

وایي کفار نیولی دی الله ولد (ځوی لور، نو فرمایي الله په رد د دوی کې) پاک دی الله، هم دی غني (ېې پروا دی)، خاص ده لره دي هر هغه څه چې په آسمانونو کي دي، او هر هغه څه چې په ځمکې کې دي، نشته تاسې څخه هیڅ برهان حجّت سند په دې (چې الله تعالی ولد نیولی دی)، آیا وایئ تاسې پر الله هغه خبرې چې نه پوهېږئ تاسې (پرې).

تفسیر: په دغه کې د عیسایانو د شرک تردید دی، چې مسیح علیه السلام یې د الله تعالی ځوی ټاکلی (مقرر کړی) وو، دغه خبره د پوهېدلو وړ (لایق) ده، که دوی په واقعي ډول «مسیح» (معاذ الله) صلبي ځوی وګڼي، نو له دې نه لویه ګستاخي او سپین سترګي او کفر به څه وي؟ الله قدّوس بالبداهه له ښځې او اولاد څخه پاک او منزّه دی، که له ځوی څخه مراد متبني وي، نو پاک الله دغه ته څه ضرورت لري چې یو مخلوق خپل متبنّی وګرځوي؟ آیا (معاذ الله) له ده سره د اولاد حسرت او د ځوی د نشتوالي څه غم وو؟ یا دغه فکر ورسره وو چې وروسته له دې نه (معاذ الله) د ده مال او دولت وارث او د ده د نامه روښانه ساتونکی به څوک اوسي؟ یا دا چې د زړورتوب او حرج په وقت ورته تکیه او د مرستې وسیله وي، العیاذ بالله، دی خو له دغو ټولو شیانو څخه بې نیازه او بې پروا دی، او نور ټول خلق په هر وخت او هر ځای کې ده ته محتاج دي، دی به ځوی، لمسی، تبنّي (ځوی نیونې) او نورو ته څرنګه احتیاج او اړتیا (مجبوري) ولري، ګرد شیان د الله تعالی مخلوق او مملوک دي، نو بیا د مالک او مملوک او خالق او مخلوق په منځ کې د داسې نسبي علائقو ګنجایش او ځایېدل له کومه کېږي؟ دا لویه سخته خبره ده؛ چې د الله تعالی په نسبت محض له جهالته داسې دروغ او بې سنده خبرې وویلې شي.

قُلْ اِنَّ الَّذِیْنَ یَفْتَرُوْنَ عَلَی اللّٰهِ الْكَذِبَ لَا یُفْلِحُوْنَ ﴿۶۹﴾ مَتَاعٌ فِی الدُّنْیَا ثُمَّ اِلَیْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ نُذِیْقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِیْدَ بِمَا كَانُوْا یَكْفُرُوْنَ ﴿۷۰﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) بېشکه هغه کسان چې له خپله ځانه ترې پر الله دروغ (په نسبت د ولد او شریک سره) خلاص به نشي (له عذابه او په مراد به ونه رسېږي). نفع اخیستل دي په دنیا کې

بیا مونږ ته راتله د دوی دي (پس له مړکه)؛ بیا به وروڅکوو مونږ دوی ته عذاب سخت په سبب د دې چې وو دوی چې کافران کېدل (په الله او په رسول الله).

تفسیر: یعنې پر الله دروغ تړونکي اګر که د ډېر دنیوي قوت او قدرت خاوندان او په خپلو اسبابو، سامانونو او وسائلو مغرور هم وي؛ لیکن ده ته حقیقي نیکي او بری له سره په برخه کېدی نشي، البته د لږو ورځو له مخې به په دنیا کې مزې کوي، او بالآخر یې د پاک الله په لوري رجوع ده، چې هلته به د خپلو جرائمو په بدل کې د نهایت سخت عذاب خوند وڅکي.

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ نُوحٍ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَقَامِي وَتَذْكِيرِي بِآيَاتِ اللَّهِ فَعَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْتُ فَأَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ وَشُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ أَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ثُمَّ اقْضُوا إِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُونِ ﴿٧١﴾

او ولوله (ای محمده !) پردوی حال د نوح کله چې وویل (نوح) قوم خپل ته چې ای قومه ځما ! کـه چېرې وي سخت پر تاسې اوسېدل ځما (ډېر وخت په تاسې کې)، او پند درکول ځما (تاسې تـه) په آیتونو د الله؛ نو خاص په الله باندې توکل کړی دی ما، نو راغونډ (او کلک) کړئ تاسې کار خپل او (راټول کړئ) شریکان خپل، بیا دې نه وي کار ستاسې په تاسې باندې پټ (یعنې ټول ښکاره راپسې ملا وترئ)، بیا راورسوئ ماته هر قسم ضرر، او مهلت مه راکوئ ماته (هیڅ قدر څو خلاص شي ځما دغه اقامت او ستاسې دغه محنت).

تفسیر: یعنې ای محمده ! اهل د مکې معظمې ته د نوح علیه السلام او د ده د قوم حال واوروه ! څو ترې عبرت حاصل کړي، که دوی د خاتم الأنبیاء صلی الله علیه وسلم پر تکذیب او عداوت هم داسې ملا تړلي وي، او له خپلو شرکیاتو ځنې لاس نه اخلي؛ نو د دوې انجام به هم همغسې کېدی شي، چې د نوح علیه السلام د تکذیب کوونکو وشو، او هم د دې واقعې له بیانولو څخه یوه موخه نبي علیه السلام ته تسلي ورکول دي، چې تاسې د خلقو د دښمنی او شرارت څخه دومره زیات خفه اومه متأثر کېږئ ! ځکه چې هر نبي ته داسې حوادث ور د مخه شوي او ټولو د همدې قسمو حالاتو مقابله فرمایلې ده، مګر په آخر کې فقط حق غالب شوی دی، او د حق او صداقت دښمنان تباه او برباد شوي دي.

﴿إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ﴾ الآیه - یعنې ستاسې د خوښې او خفګان او د موافقت او مخالفت د یوې ذرې په اندازه هم زه پروا نه لرم، د نورو انبیاوو علیهم السلام په شان ځما هیله (امید) او اسره هم صرف په الله واحد احد صمد ده، که تاسې ځما په پوهنه او پند نه پوهېږئ، یا یې نه منئ؛ نو واک (اختیار) لرئ، زه خو د خپل منصبي فرض په ادا کولو کې هیڅ قصور نشم کولی، که تاسې ځما دغه وضعیت بد منئ، او دښمني راسره کوئ، او نقصان رارسوئ؛ نو دغه شیان قطعاً ځما پر دغو ارادو څه اثر نشي غورځولی، هر هغه شی چې ستاسې په امکان کې شته؛ په ډېر شوق او مینه سره یې پر ما اجراء کړئ، ځما پر خلاف جرګې او مشورې وکړئ ! او که کوم پوخ تجویز جوړ کړئ، یا کومه خبره غوټه کړئ، او د خپل کار ملګري بلکه فرضي معبودان مو هم راټول کړئ !، او ټول سره لاس او فکر یو کړئ !، او پر یوه غیر مشکوک او غیر مشتبه رایې قائم شئ !، بیا په خپلو متفقه وو طاقتونو سره هغه راجاري کړئ ! او د یوې شېبې مهلت راته مه راکوئ !؛ نو بیا به ګورئ چې ځما د نبوّت د استقامت او د توکّل د غره په مقابل کې د ټولې دنیا قوتونه او تدبیرونه څرنګه ښکاره او لتاړه او څنګه یې بځرکي په هوا الوځي؟.

فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُمْ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٧٢﴾

نو که ګرځېدئ تاسې (له پنده او ویې نه منئ) پس نه ده غوښتی ما له تاسو څخه هیڅ اجر (مزدوري)، نه دی اجر ځما (په دې چې بولم تاسو ایمان ته) مګر پر الله دی، او امر (حکم) شوی دی ماته په دې چې اوسم زه له مسلمانانو (راسخو غاړه اینبودونکو څخه الله ته).

تفسير: يعنې ستاسې په مقابل کې نه د جاني او بدني تکاليفو څخه ويرېږم، او نه د مالي نقصان څه فکر او اندېښنه راسره شته، زه د تبليغ او د دعوت په خدمت څه معاوضه هم له تاسې څخه نه غواړم چې دغه اندېښنه راته پيدا شي؛ چې ستاسې په خفګان به ځما تنخوا بنده شي، يا کم له کمه تاسې ته د داسې وينا موقع په لاس درشي؛ چې ځما ټول جد او جهد د مال له حرصه او د پيسو په طمع دی، ځما اجرت او مزدوري د هغه لوی ذات په ذمه ده، چې زه يې کار کوم.

فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَمَن مَّعَهُ فِي الْفُلْكِ وَجَعَلْنَاهُمْ خَلَائِفَ وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۖ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾

نو نسبت د دروغو وکړ دوی نوح ته، پس نجات ورکړ مونږ دغه (نوح) ته او هغه چا ته چې وو له ده سره په بېړی کې (له غرقه)، او وګرځول مونږ دوی خليفګان، او غرق کړل مونږ (په طوفان کې) هغه کسان چې تکذيب يې کړی وو د آيتونو ځمونږ، نو وګوره چې څرنګه شوه آخره خاتمه د وېرولیو شويو (يعنې هلاک شول).

تفسير: يعنې له هر چا سره چې د عبرت سترګې وي؛ هغه دې وګوري چې د مکذبينو انجام څرنګه شوی وو؟ دغه خلقو ته په سلهاوو کلونو نوح عليه السلام پند ورکړ، او نصيحت يې وکړ، او له نفعې او ضرر څخه يې خبردار کړل، کله چې هيڅ يوه خبره يې مؤثره ونه لوېده او قبوله نشوه، بلکه بالعکس د دوی ذاتي عناد او فرار لا ورپسې زيات شو؛ نو دلته د پاک الله له لوري د اوبو سخت طوفان (ځپان) ورنازل شو، او په هغه کې ټول مکذبين سره ډوب شول، يوائې نوح عليه السلام سره له نورو څو تنو (چې پر بېړۍ سواره وو)؛ محفوظ پاتې شول، او د انسانانو وروستنۍ نسل له همدوی ځنې پاتې شو، او د ډوب شويو خلقو په ځای کې هم دغه د بېړۍ سواره مسلمانان ودان شول، د نوح عليه السلام لږ څه قصه د «الأعراف» په سورت کې هم تېره شوې ده.

ثُمَّ بَعَثْنَا مِن بَعْدِهِ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَاءُوهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا بِمَا كَذَّبُوا بِهِ مِن قَبْلُ ۚ كَذَٰلِكَ نَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِ الْمُعْتَدِينَ ﴿٧٤﴾

بيا ليږلي وو مونږ پس له نوح نور رسولان قوم د هغو ته (لکه هود، صالح، ابراهيم، لوط، شُعيب)، نو راوړي وو دغو (رسولانو) هغوی ته دلائل ښکاره، پس (مستعد) نه وو دوی (دې ته) چې ايمان يې راوړی وی په هغو (دينيه وو اصولو) چې تکذيب يې کړی وو د هغو (اصولو) پخوا (له بعثت د رسولانو)، همداسې (لکه چې مهر مو لګولی وو په زړونو د دوی) مهر لګوو مونږ په زړونو د تېرېدونکو (له شرعي حدودو).

تفسير: يعنې د نوح عليه السلام څخه وروسته هود، صالح، لوط، ابراهيم، شعيب او نور انبياء عليهم السلام يې د خپلو اقوامو په لوري له ښکاره وو نښو او دلائلو سره ليږلي وو، ليکن د هغه جهالت او کفر په حالت کې چې دغه خلق د خپلو انبياوو د بعثت څخه پخوا وو، او د هغو شيانو په سبب چې پخوا له دې نه يې پرله پسې د انبياوو تکذيب کړی وو؛ بيا يې دا توفيق ونه موند چې د نورو انبياوو چې د تشريف راوړلو او د دوی د پوهولو څخه وروسته پر حقائقو وپوهيږي او اسلام ومني، بلکه د هغو صحيحه وو اصولو تکذيب چې پخوا له دې نه قوم د نوح کړی وو؛ دوی ټولو هم د هغو د منلو څخه انکار وکړ، او همغه يوه «نـه» چې يو ځلې د ړومبنيو د خولې څخه وتلې وه؛ ممکن نه وو چې بيا د نورو وروستنيو له خولو په «هـو !» سره بدله شي، دوی هم په همغې بې ايمانۍ او تکذيب الحق تر آخره پورې کلک ولاړ وو.

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ مُّوسٰى وَهٰرُوْنَ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ بِاٰيٰتِنَا فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿٧٥﴾

بيا ولېږل مونږ وروسته له دغو (رسولانو) څخه موسى او هارون (دواړه وروڼه) طرف د فرعون (د مصر) او سردارانو د قوم د ده ته په ښكاره معجزو ځمونږ؛ نو تكبر وكړ دوى، او وو دوى قوم مجرمان (كافران زړور په ګناهونو).

فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْٓا اِنَّ هٰذَا لَسِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٧٦﴾

نو كله چې راغى دوى ته حق (رښتيا خبره) له نزده ځمونږ؛ نو وويل دوى: بېشكه دا خامخا سحر (كوډې) دى ښكاره.

تفسير: يعنې د «عصا» او د «يد بيضا» (د امسا او د روښانه لاس) او د نورو معجزو د ليدلو او د موسى عليه السلام زښته زيات تاثيردارو خبرو د اورېدلو څخه يې وويل چې: «دغه ټول امور ښكاره جادو دى» ځكه چې د ده په خيال كې د ګردو فوق العاده شيانو آخري درجه هم دغه جادو كېدى شي.

قَالَ مُوْسٰٓى اَتَقُوْلُوْنَ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمْ ۭ اَسِحْرٌ هٰذَا ۭ وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُوْنَ ﴿٧٧﴾

وويل موسى (دغو قاتلانو ته) آيا وايئ تاسې دغه حق (رښتينې معجزې) ته كله چې راغله تاسې ته (چې معجزه نه ده، سحر دى): آيا سحر دى دا (بلكه نه دى)، حال دا چې نه مومي برى ساحران (له عذاب د نيران).

تفسير: يعنې حق ته جادو وايئ، آيا جادو داسې كېدى شي؟ او آيا جادګر، كوډګر څرنګه د نبوت دعوى كولى شي؟ او د حق او باطل په كشمكش كې بريالى (كامياب) كېدى شي؟ د سحر او معجزې په منځ كې فرق او توپير نه كول، د دوى د لنډو پوهېدلو كار دى، چې د طلا او سرو زرو او ژېړو په منځ كې فرق نشي كولى، د نبي روښانه مخ، سوچه اخلاق، د تقوى رڼا، له شوكته اوعظمته ډكو احوالو كې داسې ښكاره ګواهي موجوده ده، چې كوډګري او شعوذه بازي له سره له دوى سره هيڅ يو نسبت نه لري، نو بيا نبي الله ته «ساحر» ويل په كومې اندازې بېحيايي او ليونتوب دى؟.

قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا وَتَكُوْنَ لَكُمَا الْكِبْرِيَآءُ فِي الْاَرْضِ ۭ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿٧٨﴾

وويل فرعونيانو (موسى ته) آيا راغلى يې ته مونږ ته لپاره د دې چې واړوې مونږ له هغه كاره چې موندلي دي مونږ پرې پلرونه خپل، او چې شي تاسې دواړو ته غلبه (سلطنت) په ځمكه (د مصر) كې، او نه يو مونږ ستاسې دواړو (په نبوت) باور كوونكي.

تفسير: يعنې معاذ الله ته د دنيا حريص او بد نيت يې، يو سياسي تحريك په مذهبي رنګ سره وړاندې كوې، ستا مقصد او غرض همداسې معلوميږي، چې له مذهبي حيثيته يو لوى انقلاب جوړ كړې، او په دغه ملك كې خپله سرداري او حكومت ټينګ كړې، او د دې ځاى پخواني سرداران (قبطيان) برطرف كړې، نو په ياد يې ولره ! چې ستا دغه غوښتنه پوره كېدونكې نه ده، مونږ له سره ستا خبره نه منو، او نه دې له سره مشرتيا تسليمو.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ ائْتُوْنِيْ بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيْمٍ ﴿٧٩﴾

او وويل فرعون (مقربانو خپلو ته چې): راولئ تاسې ماته هر هغه ساحر چې ښه (پوهه او) ماهر وي.

تفسير: دغه د موسى عليه السلام د تقرير جواب وو، يعنې پاتې شوه د سحر او د معجزې جګړه د هغې تصفيه هم عملاً کوو، چې د دې ملک ډېر لوی ماهر کوډګران راټول کړل شي، بيا دغه کوډګران ستا د دغو معجزاتو په مقابل کې خپلې ننداري درښکاره کړي؛ نو ټول به سره ووينې چې تاسې نبيان يئ؟ که (معاذ الله) کوډګران؟، نو ځکه د فرعون په ټوله پاچاهۍ کې سړي خواره شول، او هر لوري ته نو محصلان لاړل، چې ښه پوهان، مشاقان او ماهران کوډګران چې هر چېرې ومومندل شي؛ ژر دې راحاضر کړل شي !، د دې مفصله واقعه د «الأعراف» په سورت کې تېره شوې ده، هلته دې وکتلی شي.

فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ أَلْقُوا مَآ أَنتُم مُّلْقُونَ ﴿٨٠﴾

نو کله چې راغلل ساحران (د معارضې ميدان ته)؛ وويل دوی ته موسى چې: وغورځوئ هغه څه چې تاسو (يې) غورځوونکي يئ.

تفسير: په بل ځای کې مذکور دي، چې کوډګرانو له موسى عليه السلام څخه پوښتنه کړې وه، چې ته دې خپله ننداره پخوا راښيې؟ که يې مونږ اول دروښيو؟ د دوی په ځواب کې موسى عليه السلام وفرمايل: «د هر هغه شي ښوونه مو چې په زړه کې وي؛ ړومبی تاسې هغه راوښيئ»، ځکه چې د باطلو د پوره زور ښوولو څخه وروسته د حقو راتلل او د باطلو لاندې غورځول، او مغلوب او مقهور او ويجاړ څرګندول يې لا زيات مؤثر او د حق غلبه لا ښه واضحه کوي.

فَلَمَّآ أَلْقَوْا قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئْتُم بِهِ ٱلسِّحْرُ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبْطِلُهُۥٓ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٨١﴾

نو کله چې وغورځول ساحرانو (پرې او همساګانې خپلې)؛ نو وويل موسى: هغه څيز چې راوړی دی تاسو هغه يواځې سحر دی (نه بل شی)، بېشکه چې الله ژر تباه کوي دغه (سحر)، بېشکه چې الله نه جوړوي کار د فساد کوونکو.

تفسير: کوډګرانو خپل پرې او همساګانې پر ځمکه وغورځولې، او په تخيل او نظربندی سره يې ليدونکو ته داسې ورځرګنده (ښکاره) کړل، چې ګواکې ګرد ميدان له ژوندیو مارانو، منګورانو ځنې ډک دی، نو موسى عليه السلام وويل: «جادو او کوډې همداسې دي؛ چې تاسو راوړي دي، او بل شی نه دی، بېشکه چې الله تعالى ژر تباه کوي دغه سحر، او بېشکه الله نه جوړوي کار د فساد کوونکو».

يعنې بس دی ! تاسو خپل ټول زور او قوت صرف کړ، اوس خپل ځانونه سنبال کړئ ! چې پاک الله به ستاسې دغه له خپله ځانه جوړې کړې لوبې داسې ورانې او خرابې کړي، چې بيا له سره په مقابل کې د هغه بل کوم نظير او مثال او جوړه نشي جوړېدی، ځکه چې د پاک الله د عادت او حکمت څخه دغه خلاف دی، چې د مصلح او مفسد د مقابلې په وخت کې کله چې له هغه څخه مقصود خالص د حجّت اتمام وي؛ چې د مفسدانو او شريرانو خبرو ته څه اثر او قوت ورکړي، يا د حق کلمه مغلوبه او ښکته کړي.

وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلْحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٨٢﴾ فَمَآ ءَامَنَ لِمُوسَىٰٓ إِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّن قَوْمِهِۦ عَلَىٰ خَوْفٍ مِّن فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِمْ أَن يَفْتِنَهُمْ ۚ وَإِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِى ٱلْأَرْضِ ۖ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٨٣﴾

او (بيا ژر) رښتيا کوي الله حقه خبره (چې ځما راوړی دين دی) په کلماتو (او حکمونو) خپلو سره، او اګر که يې بد ګڼي مجرمان (کافران). نو ايمان نه وو راوړی (ړومبی) په موسى باندې مګر څو اولادو (ځلميانو) له قومه د ده سره له وېرې له فرعونه او له مشرانو د

دوی، له دې نه چې دوی و(نه) ښويوي، او بېشکه چې دغه فرعون خامخا جابر متکبر وو په ځمکه (د مصر) کې، او بېشکه چې دی خامخا له حده تېرېدونکو څخه وو (تر دې حده پورې چې د الوهيت دعوی يې هم وکړه).

تفسير: بني اسرائيلو د فرعونيانو له لاسه سخت مصيبتونه او تکليفونه، ذلت او سپکتيا ګاللې (برداشت کولې)، او د همغو ړومبنيو پخوا ويلو سره سم منتظر وو، چې د فرعون د مظالمو خاتمه، او د هغه د سلطنت د اساس اړولو لپاره همغه اسرائيلي نبي مبعوث شي.

موسی عليه السلام سم په همغه شانې تشريف راوړ چې عام خلق د هغه په انتظار کې وو، نو ځکه ګرد «بني اسرائيل» په قدرتي ډول سره د موسی عليه السلام بعثت يو نعمت عظمی ګانه، او د زړه له صدقه يې موسی رښتينی شماره، او د هغه عزت او حرمت يې په انتهايي درجه سره کاوه، مګر ډېر سړي له فرعونه او له فرعونيانو سردارانو ځنې وېرېدل، نو له همدې لامله په ابتداء کې په شرعيه وو اصولو سره يې ايمان رانه وړ، او وقت او زمان ته يې منتظر وو، چې کله او هر مهال (وخت) چې د حق غلبه وشي؛ نو ګرد به سره مسلمانيږي، د بني اسرائيلو لږ څه ځلميانو همت وکړ، او د فرعون د خوف او وېرې سره يې د خپل اسلام اظهار او اعلان وکړ، څو شمېرلي او غوره شوي قبطيان هم چې د فرعون له قومه وو؛ په اسلام مشرف شول، په آخره کې کله چې موسی عليه السلام اثر او د حق غلغله لا پورته شوه؛ نو دلته د بني اسرائيلو ګرد هغه قومونه سره مسلمانان شول، چې نژدې په شپږو لکو بالغو نارينه وو پورې رسېدل، دلته د هغو د ابتدايي قصې بيان دی.

وَقَالَ مُوسَىٰ يَا قَوْمِ إِن كُنتُمْ آمَنتُم بِاللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوا إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ ﴿٨٤﴾

او وويل موسی (مؤمنانو د خپل قوم ته کله چې آثار د خوف ښکاره شو): ای قومه ځما ! که يئ تاسې چې ايمان مو راوړی دی پر الله (چې خير او شر او نور هر شی د ده په قدرت کې دی)؛ نو خاص پر هم ده توکل وکړئ که يئ تاسې مسلمانان (حکم منونکي د الله).

تفسير: يعنې د خوف او وېرې هيڅ ضرورت نشته، د يوه فرمان منونکي مؤمن کار دا دی، چې د خپل مالک پر قوت معتمد وي، هر هغه څوک چې د پاک الله پر لا محدود قدرت او رحمت متيقن وي، دی په هرې معاملې کې يقيناً په الله تعالی اعتماد او توکل کوي.

فَقَالُوا عَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٨٥﴾

نو وويل دوی: خاص پر الله توکل کړی دی مونږ، ای ربه ځمونږه ! مه ګرځوه مونږ (سبب د) فتنې (ضلالت) لپاره د قوم ظالمانو !.

تفسير: موسی عليه السلام پر نصيحت دوی د خپل اخلاص اظهار وکړ، او ويې ويل چې: بېشکه ځمونږ توکل او اعتماد خالص پر الله تعالی باندې دی، او د همغه له درباره غواړو چې مونږ د دغو ظالمانو له ظلمونو څخه خلاص کړي؛ چې زيات له دې نه مو په عذاب نه کړي، په دغه شانې چې دوی تل پر مونږ خپل زور، طاقت، قوت او ظلم وچلوي، او ځمونږ له لاسه د دوی په مقابل کې هيڅ شی نه وي پوره؛ په دغه صورت کې ځمونږ دين هم په وېره او خطره کې دی.

وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿٨٦﴾

او نجات راکړه مونږ ته په (سبب د) رحمت خپل له قوم کافرانو نه.

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰ وَأَخِيهِ أَن تَبَوَّآ لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوتًا وَٱجْعَلُوا۟ بُيُوتَكُمْ قِبْلَةً وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ ۗ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٧﴾

او وحيي وکړه مونږ موسی او ورور د ده ته داسې چې: جوړ (مقرر) کړئ تاسې لپاره د قوم خپل په مصر کې کوټې (لپاره د عبادت) او وګرځوئ کوټې خپلې (مخامخ) قبلې (ته)، او سم ودروئ (ادا کوئ) تاسې لمونځ، او زېرى ورکړه (ای موسی) مؤمنانو ته (دلته په نصرت هلته په جنت).

تفسير: شاه صاحب ليکي: « کله چې د فرعون د هلاکت وقت نژدې شو؛ نو حکم وشو چې د بني اسرائيلو قوم دې له هغوی سره ګډ او شامل نشي، او په خپلو محلو کې دې ببل اوسيږي، چې وروسته له دې نه پر دوی آفتونه راتلونکي دي.

مفسرينو له ﴿أَن تَبَوَّآ لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوتًا﴾ څخه دغه مراد آخيستی دی، چې په خپلو کورونو کې اوسېږئ ! او له دغو څخه ځينې کوټې د عبادت لپاره مخصوصې کړئ ! (او دا يې هله وفرمايل چې) فرعون ټول مسجدونه او معابد خراب کړي وو، هيڅوک به د باندې وتلی او عبادت به يې کولی نشو، نو حکم وشو؛ چې په خپلو کورونو کې دې داسې ځايونه د لمانځه لپاره تيار کړي؛ چې قبلې ته مخامخ وي، او لمونځ مه پرېږدئ ! چې د همغه په برکت سره مو نصرت په برخه کيږي.

وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَأَهُۥ زِينَةً وَأَمْوَٰلًا فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۙ رَبَّنَا لِيُضِلُّوا۟ عَن سَبِيلِكَ ۖ رَبَّنَا ٱطْمِسْ عَلَىٰٓ أَمْوَٰلِهِمْ وَٱشْدُدْ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوا۟ حَتَّىٰ يَرَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ﴿٨٨﴾

او وويل موسی (تضرّعاً): ای ربه ځمونږ ! بېشکه تا ورکړی دی فرعون او سردارانو د ده ته زينت (رونق) او مالونه په دغه ژوندون لږ خسيس کې، ای ربه ځمونږ ! عاقبت او نتيجه يې دا شوه د دې چې ګمراه کړي دوی (خلق) له لارې ستا نه، ای ربه ځمونږ ! محوه (کړه، هلاک او مسخ) راوله پر اموالو د دوی، او سختي راوله په زړونو د دوی؛ نو ايمان نه راوړي دوی تر هغه چې ووينې دوی عذاب دردناک.

تفسير: يعنې د هر قسم سامان، رونق، آسايش، او سينګار دې ورکړی دی، مثلا د صورت ښايست، سورلی، عمده پوښاک، اثاث البيت او نور، او د مال او د دولت خزانې د سرو او د سپينو زرو درنګونه (کانونه) او نور دې وربخښلي دي.

ځينو مفسرينو په ﴿لِيُضِلُّوا۟﴾ کې «لام» د «عاقبت» لپاره اخيستی دی، لکه چې په ﴿فَٱلْتَقَطَهُۥٓ ءَالُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا﴾ کې «لام» د «عاقبت» لپاره دی، نو مطلب يې داسې دی چې: «دغه ساز او سامان يې ځکه ورکړی وو؛ چې په خيريه وو امورو کې يې ولګوي، او د دغو نعمتونو په لرلو خپل حقيقي منعِم په ښه شان سره وپېژني، او د الله تعالی له شکر کوونکو بندګانو ځنې شي، مګر په خلاف د هغه دوی له خپلې بدبختۍ د الله تعالی د دغو نعمتونو سره نور خلق بې لارې او ګمراهان کړل، او په دغه لار کې په خلاص زړه او لاس داسې بې پروا لګوي؛ لکه چې يې خاص همدغه کار لپاره ورکړي وي، پر دغه تفسير هيڅ يو اشکال نه واردېږي.

کله چې موسی عليه السلام تر يوې اوږدې مودې پورې هغوی ته هر راز هدايات ورکړه، او عظيم الشانې معجزې يې وربښکاره کړې، مګر د معاندينو جحود او عناد لا پسې زياتېده، تر دې حده پورې چې د تجربې، يا د صحبت د

طول يا د الله تعالى د وحيې په وسيلې په پوره ډول ثابته شوه، چې دغه خلق له سره ايمان راوړونكي نه دي؛ نو دلته د دوى د هلاكت لپاره يې دعا وكړه، څو د دوى له پليتې ځنې دنيا ژر پاكه شي، او نور د دوى له بدې خاتمې ځنې د عبرت درس واخلي.

قَالَ قَدْ أُجِيبَت دَّعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَانِّ سَبِيلَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾

وفرمايل (الله): په تحقيق قبوله كړى شوه دعا ستاسې، نو سم ولاړ اوسئ (په تبليغ خپل)، او متابعت مه كوئ تاسې د لارې د هغو كسانو چې نه پوهيږي (په حق يا ناپوهان دي په حكمت د تاخير).

تفسير: له رواياتو ځنې معلوميږي، چې موسى عليه السلام به ښېرې كولې، او هارون عليه السلام به آمين ويل، نو په دغه لحاظ سره يې ﴿دَّعْوَتُكُمَا﴾ فرمايلي دي.

يعنې خپل كار په استقلال او ثابت قدمۍ سره پاى (انجام) ته ورسوئ ! كه د دعا د قبولولو په آثارو كې څه ځنډ (ايسارتيا) درښكاره شي؛ نو د ناپوهانو په شان تلوار او بيړه مه كوئ ! په مقدر وخت او مقرري نېټې كې همداسې چې ته يې غواړې كېدونكي دي، مګر له وړېدلو او وارخطا كېدلو ځنې هيڅ شى په لاس نه درځي.

وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ بَغْيًا وَعَدْوًا حَتَّىٰ إِذَا أَدْرَكَهُ الْغَرَقُ قَالَ آمَنتُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٩٠﴾ آلْآنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنتَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ ﴿٩١﴾

او تېر كړل مونږ بني اسرائيل له بحره (د قلزم روغ رمټ) نو پسې ورسېده په دوى پسې فرعون او لښكر د ده لپاره د ظلم او جفا، تر هغه كله چې ورسېده دغه (فرعون) ته غرق (ډوب شو او وويړېد په هلاك خپل)؛ نو ويې ويل چې: ايمان راوړ ما په دې چې بېشكه نشته هيڅ معبود بر حق مګر يواځې هغه ذات چې ايمان راوړى دى پر هغه بني اسرائيلو، او زه يم له مسلمانانو (غاړه ايښودونكو حكم د الله ته، وفرمايل الله په رد د ايمان د فرعون:) آيا اوس (دې ايمان راوړ؟) حال دا چې په تحقيق نافرماني دې كوله پخوا (له دې نه د رسول ځما) او وې ته له مفسدينو (فساد كوونكو) نه.

تفسير: موسى عليه السلام سره له څو لكو بني اسرائيلو له مصره ووتلو، كله چې فرعون خبر شو؛ نو يو زورور لښكر يې د هغو د تعاقب لپاره واستول، څو دوى د ده د ظلم له منګولو څخه خلاص نشي، كله چې بني اسرائيل د (قلزم د بحيرې) څنډې (خوا) ته ورسېدل؛ نو ډېر زيات وارخطا او پرېشان شول، ځكه چې وړاندې لوى بحر او تر شا يې د فرعون زورور لښكر راته، موسى عليه السلام دوى ته تسلي وركړه، او د الله تعالى په حكم يې پخپل همسا بحر وواهه، د بحر اوبه دې خوا او هغه خوا شوې، او غونډې غونډې ودرېدلې، او د ده په منځ كې دوولس وچې لارې د پاك الله په حكم جوړې شوې، بني اسرائيل ټول سره له بحره پورې وتل.

د بل لورې فرعون سره له خپلو لښكرو د «قلزم» څنډو «غاړو» ته ورسېدل، او پر دغو وچو لارو يې خپل آسونه رهي (روان) كړل، كله چې ټول فوجونه په دغو دوولسو لارو كې تلل، او بيخي د بحر منځ ته داخل شول؛ نو د بحر په اوبو حكم وشو، چې بيا سره يو ځاى شي، سمدلاسه د اوبو هغه بېل شوي طبقات سره يو ځاى شول، او دغه ټول افواج سره له خپلو تجهيزاتو د بحر په قعر (تل) كې ډوب شول، كله چې فرعون وليده چې زه هم اوس ډوبېږم، نو ډېر زيات

وويرېده، او د ايمان او د اسلام لفظ يې په ژبه راوړ، چې ګوندې د بني اسرائيلو الله له ما ځنې د «ايمان» د لفظ د اورېدلو په سبب د بحر موجونه لرې او روغ رمټ مې له اوبو وباسي، دلته د پاک الله داسې ارشاد صادر شو: ﴿آلْآنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ﴾ الآيه ـ يعنې تا په ټول عمر کې مخالفت کاوه، او له شرارت څخه دې لاس نه اخيسته، اوس چې دې عذاب په عين اليقين سره وليده؛ نو ايمان راوړې؟ د دې وقت ايمان بېکاره او يقين يې بې اعتباره دی: ﴿فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ إِيمَانُهُمْ لَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا سُنَّتَ اللَّهِ الَّتِي قَدْ خَلَتْ فِي عِبَادِهِ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكَافِرُونَ﴾ (٢٤ جزء د المؤمن سورت (٨٥) آيت (٩) رکوع).

فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَةً ۚ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ ﴿٩٢﴾

نن ورځې به خلاصی درکړو تا ته په بدن ستا سره (بې روحه، او وبه دې باسو له بحره لوڅ لغړ) لپاره د دې چې شې ته لپاره د هغه چا چې وروسته له تا راځي (لوی) آيت (دليل د عبرت)، او بېشکه چې ډېر له خلقو د آيتونو (دلائلو د قدرت) ځمونږ څخه خامخا غافلان دي (چې توجه پرې نه کوي).

تفسير: په «موضح القرآن» کې دي: «همداسې چې د فرعون بې وقته ايمان راوړل بې فائدې وو، همغسې پاک الله د ده له مړ کېدلو څخه وروسته د هغه بدن يې له بحر څخه د باندې د شګو په سر وغورځاوه، چې بني اسرائيل يې وګوري، او شکر وباسي، او نور وروسته راتلونکي د ده له حال عبرت واخلي، که نه د هغه د مړي د نجات څه فائده متصوره وه؟ لکه چې ايمان يې بې فائدې وو؛ همغسې بې فائدې نجات يې هم په برخه شو.

د جديده وو تحقيقاتو له مخې ثابته شوې ده، چې د فرعون کالبوت تر نن ورځې پورې همغسې محفوظ پاتې دی، ليکن د قرآني الفاظو صحت د دې خبرې پر ثبوت نه دی موقوف.

وَلَقَدْ بَوَّأْنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ مُبَوَّأَ صِدْقٍ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ ۚ فَمَا اخْتَلَفُوا حَتَّىٰ جَاءَهُمُ الْعِلْمُ ۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٩٣﴾

او خامخا په تحقيق ځای ورکړ مونږ بني اسرائيلو ته (پس له اهلاکه د فرعونيانو) ځای د صدق (رښتينی لايق په مصر او شام کې)، او غوره رزق روزي مو ورکړه دوی ته له طيباتو (پاکيزه خيزونو لذتناکو)، نو اختلاف ونه کړ دوی (په دين کې) تر هغه پورې چې راغی دوی ته علم (پر احکامو د تورات)، بېشکه رب ستا حکم (فيصله) به وکړي په منځ د دوی کې په ورځ د قيامت کې په هغه څيز کې چې وو دوی چې په هغه کې به يې اختلاف کولو (له احکامو د دين څخه).

تفسير: يعنې فرعون يې هلاک او بني اسرائيلو ته يې ړومبی د مصر مملکت ورکړ، بيا لږ څه مدت وروسته (عمالقه) يې وويستل، او د شام مملکت يې هم ورکړ، دغه دواړه ملکونه ودان، زرغون او سېراب (ماړوب) دي، چې په کې ښايسته او لذيذ شيان په افراط سره پيدا کېده.

﴿فَمَا اخْتَلَفُوا حَتَّىٰ جَاءَهُمُ الْعِلْمُ﴾ الآيه ـ يعنې د مادي انعاماتو او اکراماتو سره په ديني او روحاني نعمتونو سره يې هم سرلوړي ورکړه، د تورات شريف علم يې ورکړ، چې په کې د دين اصول او فروع بيان شوي وو، او د پخوانيو او وروستنيو په نسبت يې اخبار درلودل (لرل)، له دغو واضحه وو حقائقو د خبرېدلو څخه وروسته دغه وړ او لايق نه وو چې دوی په داسې صافو شيانو کې اختلاف وکړي، او پخپلو منځونو کې سره مناقشې او جګړې وکړي، او د ګوندبازۍ په نحوست (شومتيا) کې سره آخته شي.

مګر دوی سره د صحیح علم د لرلو او صادق خبر د رسېدلو سره په راز راز اختلافاتو کې مبتلا او هر ډول مناقشې يې پيدا کړې، او پرله پسې په نفاق او تفرقه اچولو کې لګيا دي، په ځينو احکامو کې يې له خپل نبي موسی عليه السلام سره هم په ژبه او سوال او جواب وکړل، لکه چې د غوا د حلالولو په واقعې کې چې مخکې تېر شو، وروسته د نورو انبياوو بالخاصه ځمونږ د خاتم النبيين سيد المرسلين صلى الله عليه وسلم د رسالت ځينې له دوی ځنو تصديق وکړ، او أکثرو يې تکذيب وکړ، حال دا چې د دوی په متعلق پر ډېرو وړاندوينو مطلع شوي وو، بلکه د محمد صلى الله عليه وسلم له بعثت څخه پخوا د نبي آخر الزمان د راتګ منتظران وو، او له مشرکانو سره به يې ويل، چې مونږ به د آخر الزمان نبي سره ملګري کيږو، او تاسې به هم سمې لارې ته راولو.

فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ مِّمَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ فَسْأَلِ الَّذِينَ يَقْرَءُونَ الْكِتَابَ مِن قَبْلِكَ لَقَدْ جَاءَكَ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿٩٤﴾ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ فَتَكُونَ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٩٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٩٦﴾ وَلَوْ جَاءَتْهُمْ كُلُّ آيَةٍ حَتَّىٰ يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿٩٧﴾

نو که فرضاً يې ته په شک کې له هغه (قرآن) چې نازل کړی دی مونږ تاته؛ نو پوښتنه وکړه له هغو کسانو چې لولي کتاب (تورات او انجيل) پخوا له تا نه (له اهل کتابو نه)، خامخا په تحقيق راغلی دی تاته حق له (طرفه د) رب ستا نو مه کېږه ته له سره له شک راوړونکيو څخه. او مه کېږه ته له سره له هغو کسانو چې تکذيب کوي دوی د آيتونو د الله؛ نو به شې ته له زيانکارانو. بېشکه هغه کسان چې حقه (ثابته) شوې ده (په علم الله يا لوح محفوظ کې) پر دوی کلمه (حکم د عذاب) د رب ستا؛ نو نه راوړي ايمان دوی. او اګر که راشي دوی ته دليل د وحدانيت (او د قدرت د رب العزّت) تر هغه پورې چې ووينې دوی عذاب دردناک (په نزع يا قيامت کې).

تفسير: اګر که ظاهرا دغه خطاب رسول اکرم صلى الله عليه وسلم ته دی، ليکن په حقيقت کې د دوی په مخاطبه سره د هغو نوروته اورول مقصود دي، چې د يوه امي له ژبې داسې عظيم الشان حقائق او واقعات اوروي، او حق حيران ورته پاتې کيږي، او د جهل او تعصب له سببه د هغه د واقعيت په نسبت د شک او تردد اظهار کوي، که نه ښکاره ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به پخپله پخپل راوړي کلام کې څرنګه شک او شبهه کولی شي، له دې امله رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې آيت له نازلېدو وروسته وفرمايل: «چې زه نه تپوس کوم، او نه شک»، او د هغه مقدس شي په نسبت چې ټولې دنيا ته دعوت ورکوي، او له غرونو ځنې زيات ټينګ يقين د اورېدونکو په زړونو کې پيدا کوي، دی به څرنګه هغه په خپله ژبه دروغ ګڼي؟.

څو آيته وروسته ښکاره فرمايي: ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِن كُنتُمْ فِي شَكٍّ مِّن دِينِي﴾ الآيه ـ دغه آيت صاف رابنيي چې شک او شبهه کوونکي نور خلق وو، چې د هغو په مقابل کې رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپلې غير متزلزلې او کلکې او قاطعې عقيدې سره داسې اعلان کوي.

فائده: له ﴿كَلِمَتُ رَبِّكَ﴾ ـ درب له کلام څخه» مراد غالباً هغه دی، چې په بل ځای کې يې فرمايلي دي: ﴿لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ﴾ يعنې دوزخ به له پيريانو او انسانانو ځنې ډکوم، پر هغو خلقو چې له بد بختی، بد استعداد، د اعمالو له شامته دغه خبره د الله تعالى په علم کې ثابته شوې ده، دلته د هغو ذکر دی.

فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ آمَنَتْ فَنَفَعَهَا إِيمَانُهَا إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ لَمَّا آمَنُوا كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنَاهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٩٨﴾

نو ولې نه وو اهل د يوې (نافرمانې) قريې (کلي) چې ايمان يې راوړی وی (پخوا له نزوله د عذابه)، پس نفع رسولي وی ورتـه ايمان د (اهـل د) دې (قريې) مګر قوم د يونس کله چې ايمان راوړ هغو (په ليدلو د علائمو د عذاب)؛ نو دفع (پورته) کړ مونږ دوی نه عذاب او ذلت په دې ژوندون لږ خسيس کې، او فائده ورسوله مونږ دوی ته تر وقت د مړګ پورې.

تفسير: يعنې هغومره کلي چې د انبياوو د تکذيب او د خپلو شرارتونو لامله د پاک الله د عذاب مستوجب شوي دي، د هغو له منځه هيڅا ته د داسې ايمان راوړلو نوبت نه دی راغلی چې دوی د الله تعالی له عذابه وژغوري (بچ کړي)، يوائې د يونس عليه السلام د قوم يو مثال شته، چې هغو په ايمان راوړلو خپلو سره خپل ځانونو ته د الله تعالی د هغه رسېدونکي عذابه ژر نجات ورکړ، چې بيخي د دوی په سر وګرځېده، نو پاک الله د ايمان راوړلو په برکت په دنيوي ژوندانه کې له دوی ځنې هغه راتلونکی عذاب ستون (واپس) کړ، او تر هغه وقته پورې چې دوی په دنيا کې اوسېدل، دوی يې د دنيوي فوائدو او برکاتو ځنې منتفع کړل.

مفسرين نقل کوي چې يونس عليه السلام په (موصل) کې د (نينوی) خلقو ته مبعوث شو، د دې ځای خلق بت پرستان وو، يونس عليه السلام متصلاً تر اوو کالو پورې هغوی ته پند او نصيحتونه کول، مګر دوی له سره د ده خبرو ته غوږ نه کېښود، يوماً فيوماً د دوی انکار او تکذيب لا پسې زياتېده، آخر يونس عليه السلام په تنګ شو، نو دوی ته يې ښېرې وکړې (که له دغو چارو ځخه مو لاس وانخيست؛ نو د درې ورځو په منځ کې پر تاسو باندې عذاب راتلونکی دی).

کله چې درېمه شپه راغله يونس عليه السلام په نيمه شپه کې له دغه کلي ځخه ووت، د سپېده داغ په مهال (وخت) کې د عذاب آثار او علائم ورښکاره شو، په آسمان کې تکه توره وېروونکي وريځ راوختله، تر دې چې د کورونو چتونه يې بيخي تياره شول، د دغو آثارو د ليدلو ځخه کله چې د دوی يقين پر خپل هلاکت راغی؛ نو د يونس عليه السلام په لټولو پسې ولوېدل.

هر کله چې هغه يې ونه مونده؛ نو ګرد خلق سره له ښځو، وړوکيو بلکه له خپلو څارووو او مواشيو سره د باندې بېديا ته ووتل، او په خلاص زړه او صافې عقيدې يې د پاک الله په لوري رجوع وکړه، او له ډېرې وېرې يظې وژړل، او چغې يې ووهلې، او په ډېره تضرّع او اخلاص سره يې د الله تعالی په دربار کې دعاوې کولې، له ځلورو خواوو د آهاتو او ژړاوو غږونه پورته کېدل، او ګردو به سره ويل چې «آمنا بما جاء به يونس»، «ايمان مو راوړی دی پر هغه څه چې يونس عليه السلام له خپله ځانه سره راوړی دی»، حق تعالی په سبب د دغې تضرّع، ژړا، واوېلا پر دوی باندې رحم وفرمايه، او د عذاب هغه آثار يې چې ورځرګند (ښکاره) کړي يې وو؛ بېرته لرې کړل.

وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَنْ فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا ۚ أَفَأَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٩٩﴾

او که اراده فرمايلې وی رب ستا (ايمان د ټولو خلقو) خامخا ايمان به راوړی وی هغو کسانو چې په ځمکه کې دي ټولو په اجتماع سره، آيا نو ته مجبوره کوې (بې له ارادې ځما) خلق تر هغه چې شي دوی (ټول) مؤمنان (يقين لرونکي) بلکه نه يې شې.

تفسير: يعنې تاسې داسې قدرت نه لرئ چې په زور او زياتي د چا په زړه کې ايمان واچوئ، که الله تعالى اراده فرمايلې وى؛ نو د ټولو انسانانو په زړونو کې يې ايمان اچولى شو، مګر ځرنګه چې په متعددو مواضعو کې تقرير کړى شوى دى؛ کله چې داسې کول د الله تعالى د تکويني حکمت او مصلحت څخه خلاف وو؛ نو ځکه يې ونه فرمايل.

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تُؤْمِنَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿١٠٠﴾

او نه دى (ممكن) لپاره د هيڅ نفس دا چې ايمان راوړي مګر (ممكن دى) په اذن (اراده) د الله، (او اراده كوي الله ايمان د ځينو) او آچوي پليتي په هغو كسانو چې نه چلوي عقل (او فكر په دلائلو او آيتونو د الله كې).

تفسير: بې د الله تعالى له مشيئت او توفيقه او تكويني حكم هيڅوک ايمان نشي راوړى، او دغه حكم او توفيق د همغو په حق كې كيږي، چې د الله تعالى د قدرت په نښو او آيتونو غور او فكر كوي، او له عقله او فهمه كار اخلي، هغه كسان چې د پوهېدلو او سنجولو (غور كولو) تكليف پر ځان نه تېروي؛ نو الله تعالى دوى همغسې د كفر او شرک په نجاست كې ډوب او ککړ پرېږدي.

قُلِ انْظُرُوْا مَاذَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَا تُغْنِى الْاٰيٰتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٠١﴾

ووايه (اى محمده ! دې مشركانو ته چې) وګورئ چې څه (قسم عجيبه عجيبه دلائل د وحدانيت) دي په آسمانونو او ځمكه كې، او نه دفع كوي (عذاب) دلائل (د وحدانيت) او (اورېدل د كلام د) ويروونكو له هغه قوم څخه چې ايمان راوړونكي نه دي دوى.

تفسير: يعنې د غور كولو او پوهېدلو لپاره په آسمان او ځمكه كې د الله تعالى د قدرت، حكمت، توحيد، او نورو ډېرې نښې موجودې دي، بلكه هره ذره، هر بڅرکى، هره پاڼه د ده پر توحيد دلالت كوي.

ليكن هغه څوک چې د كومې خبرې منونكى او تسليم كوونكى نه وي؛ نو د ده لپاره دغه ګردې نښې او دلائل بېكاره دي، او د ويروونكو انبياوو تنبيه او تخويف هم پر دوى غير مؤثر ثابتيږي.

فَهَلْ يَنْتَظِرُوْنَ اِلَّا مِثْلَ اَيَّامِ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ قُلْ فَانْتَظِرُوْا اِنِّىْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿١٠٢﴾

نو آيا انتظار كوي دا (مشركان په سبب د تكذيب ستا، بلكه انتظار نه كوي هيڅ څيز ته) مګر (انتظار كوي) په شان د هغو بدو ورځو (وقائعو) د هغو كسانو چې تېر شوي دي پخوا له دوى نه، ووايه (اى محمده ! دوى ته) نو انتظار وكړئ تاسې، بېشكه زه هم له تاسې سره له انتظار كوونكو ځنې يم.

ثُمَّ نُنَجِّىْ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كَذٰلِكَ ۚ حَقًّا عَلَيْنَا نُنْجِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٠٣﴾

بيا نجات وركړ مونږ رسولانو ځمونږ ته او هغو كسانو ته چې ايمان يې راوړى وو، همداسې (چې نجات وركړ مونږ هغوى ته؛) ثابته ده پر مونږ (تلطفاً دا چې) خلاصوو (نور) مؤمنان (هم).

تفسير: يعنې همغسې چې له پخوانيو قومونو سره ځمونږ عادت جاري وو، چې مكذبين به مو هلاكول، او انبياء او مؤمنينو ته به مو نجات وركولو؛ همداسې د موجوده وو او د مستقبلو مؤمنينو په نسبت ځمونږ وعده همدا ده، چې هغو

ته به نجات ورکوو، په آخرت کې د عذاب أليم څخه، او په دنيا کې به د کفّارو له مظالمو او سختيو څخه مأمون او مصون وي، ولې شرط دا دی چې مؤمنين، صادق مؤمنين وي، يعنې د هغو صفاتو او خصالو او خصائصو خاوندان وي، چې په پاک قرآن او په حديث کې د مؤمنينو په نسبت بيان شوي دي.

قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْ دِيْنِيْ فَلَآ اَعْبُدُ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ اَعْبُدُ اللّٰهَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰىكُمْ ۖ وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٠٤﴾ وَاَنْ اَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ۚ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٠٥﴾ وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۚ فَاِنْ فَعَلْتَ فَاِنَّكَ اِذًا مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٠٦﴾

ووايه (ای محمده !) ای خلقو که يئ تاسې په شک کې له دينه ځما (چې صحيح دی که غلط) نو عبادت نه کوم زه د هغو معبودانو چې عبادت (يې) کوئ تاسې غير له الله څخه، وليکن عبادت کوم زه د الله هغه چې وفات کوي تاسې (وباسي روح ستاسې په شدّت سره)، او امر حکم شوی ما ته داسې چې شم له مؤمنانو (يقين لرونکو) نه. او (داسې حکم راباندې شوی) چې سم کړه مخ (ذات) خپل دين ته، حال دا چې کلک او ثابت يې په حق دين باندې، او مه کېږه له سره له مشرکانو. او مه بوله (په عبادت سره) پرته (سوا) له الله هغه چې نفع نه رسوي تاته (بلنه د هغه) او نه ضرر رسولی شي تاته (نه بلنه د هغه)، نو که بالفرض دې وکړ (عبادت د غير الله)؛ نو بېشکه ته هم په دغه وخت کې يې له ظالمانو.

تفسير: يعنې که ځما طريقه او ديني مسالک ستاسې په فکر کې ځای نه دی نيولی، او تاسې پرې نه پوهېږئ، نو ځکه د هغه په نسبت په شکو کو او شبهاتو کې لويدلي يئ؛ نو زه د خپل دين اصل الأصول (چې خالص توحيد دی) درښيم او درپوهوم يې.

خلاصه دا چې زه ستاسې د دغو فرضي معبودانو له عبادته سخت نفور او بېزار يم، چې د هغو اختيارول ځما له لوري له سره امکان نه لري، او نه ښايي چې تاسې دغه تصورات په خپلو زړونو کې وکرئ ! ځما عبادت خالص هغه الله قدّوس ته دی، چې د هغه په قبضه او واک (اختيار) کې ستاسې ارواح او ساوې دي، تر هغه وخته چې د ده حکم او اراده وي، هغه ستاسې په جسمونو کې پرېږدي، او هر کله چې اراده وفرمايي؛ سمدلاسه يې درځنې راکاږي، ګواکې د موت او حيات تار چې هغه ذات په قدرت او اختيار کې دی؛ د همغه عبادت کېدی شي نه يوائې دا چې په جوارحو سره د هغه عبادت کول ضروري دی، بلکه ښايي چې په زړه کې هم د ده په توحيد او تفريد پوره يقين او ايمان وي، او په ظاهر او باطن پر دغه حنيف دين چې د ابراهيم خليل الله دين دی؛ په پوره همّت او توجه سره استقامت په کار دی، او د جلي او خفي شرک نښې او آثار ښايي بيخي له منځه ورک شي.

وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا هُوَ ۚ وَاِنْ يُّرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ ۭ يُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَاۗءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۭ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿١٠٧﴾

او که ورسوي تاته الله کوم قسم ضرر (لکه مرض او فقر)؛ نو نشته لرې کوونکی د هغه (هيڅوک) مګر هم دی دی، او که اراده وکړي تاته د خير (لکه صحت او غنا)؛ نو نشته هيڅ منع کوونکی د فضل د ده، رسوي (الله) دا (خير) هر هغه چاته چې اراده وفرمايي له بندګانو خپلو نه، او هم دی ښه مغفرت کوونکی (د خطياتو) ډېر رحم کوونکی دی.

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۖ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴿١٠٨﴾

ووايه (ای محمده !) ای خلقو ! په تحقیق راغلی دی تاسې ته حق (قرآن او رسول) له جانبه د رب ستاسې، نو هر چا چې سمه لاره ومونډله (ایمان او طاعت ته)؛ نو بېشکه هم دا خبره ده، چې لاره مومي لپاره (د نفع) د ځان خپل، او هر څوک چې ګمراه شو؛ نو بېشکه همدا خبره ده چې ګمراه کیږي پر ځان خپل (چې ضرر یې وررسیږي)، او نه یم زه پر تاسې باندې وکیل (ساتونکی د اعمالو ستاسې).

تفسیر: یعنې حق په واضح ډول سره له دلائلو او براهینو در رسېدلی دی، چې د هغه په نه قبلولو کې هیڅ یو معقول عذر د هیڅا سره نشته، د پاک الله آخري حجّت هم پر بندګانو تمام شوی دی، نو اوس دې هر څوک خپله نفع او نقصان وسنجوي (سوچ وکړي)، او د هغه فکر دې له خپله ځانه سره وچلوي.

هر هغه څوک چې د پاک الله په ښوولې سمې لارې لاړ شي، په دنیا او آخرت کې کامیاب او بریالی کیږي، او هر هغه څوک چې دغه سمه لاره پرېږدي، او دغه لوري هغه لوري ته لالهانده او سرګردانه ګرځي؛ نو دی خپل ځان پخپله ذلیل، خوار او بې مقداره کوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې آزاد او خپلواک او خپلسری سړی نه دی درلېږلی شوی، چې ستاسې د دغو افعالو تعهد او ذمه واري پخپله غاړه واخلي، یا ستاسې په ځای دې جواب ورکړي، د ده کار تش خبرول او سمه لاره ښوول دي، پر هغه لاره تلل پخپله د تلونکي کار دی.

وَٱتَّبِعْ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ وَٱصْبِرْ حَتَّىٰ يَحْكُمَ ٱللَّهُ ۚ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿١٠٩﴾

او متابعت وکړه (ای محمده !) د هغه څیز چې وحي کولی شي تاته، او صبر کوه (په طاعت او مصیبت او له معصیت) تر هغه پورې چې حکم وفرمایي الله (په نصرت او غلبه ستاسې)، او همدغه الله خیر غوره د ټولو حکم کوونکو دی.

تفسیر: په دې سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تسلي ورکړی شوې ده، چې که دا خلق حق نه قبلوي؛ نو تاسې د دوی په غم کې خپل ځان له لاسه مه وباسئ ! تاسې دالله تعالی د احکامو متابعت کوئ ! او د تبلیغ او دعوت په کارونو کې تل لګیا اوسئ ! او پر هغو شدائدو چې په دغه لاره کې تاسې ته ورسیږي؛ صبر کوئ ! او د مخالفینو پر ایذاء او تکذیب تحمّل وکړئ، تر هغه پورې چې پاک الله د دوی او ستاسې په منځ کې ښه فیصله وکړي، یعنې سم له خپلې وعدې سره تاسې مظفر او منصور کړي، یا د جهاد حکم درولیږي.

تمّت سورة یونس علیه السلام بمنّه تعالی وفضله، فلله الحمد علی ذلک.

سُورَةُ هُودٍ

«د هود سورت مکي دی، پرته له (۱۲، ۱۷، ۱۱۴) آيتونو چې مدني دي»

«(۱۲۳) آيتونه او (۱۰) رکوع لري، په تلاوت کې (۱۱)، او په نزول کې (۵۲) سورت دی، وروسته د يونس له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر مهربان پوره رحم کوونکی دی.

الر ۚ كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ﴿١﴾

(دا) کتاب دی چې محکم کړی شوي دي آيتونه د ده (چې ورته لاره نه مومي هيڅ نقصان او خلل)، بيا په تفصيل سره بيان شوی دی له نزده د لوی حکمت والا ښه خبردار څخه.

تفسير: يعنې دغه قرآن کريم هغه عظيم الشأن او جليل القدر کتاب دی، چې ټول آيتونه يې د لفظي او معنوي او نورو حيثيتونو بيخي ثابت، قائم، آزمويلی شوی دی، تللی (وزن کړی شوی) او ښه سنجولی شوی دی.

نه په هغه کې څه تناقض شته، او نه کوم مضمون يې د حکمت او واقعيت په خلاف دی، او نه د اعجاز، فصاحت، بلاغت او نورو له پلوه په يوه توري او حرف يې څه تنقيد او اعتراض کېدی شي، هر هغه مضمون يې چې په هر عبارت سره اداء فرمايلی دی؛ محال دی چې له هغه څخه بهتر او ښه تعبير وکړی شي، د ګردو ضروریاتو کافي تفصيل يې بيان فرمايلی دی، په نزولي حيثيت کې همدغه حکمت مرعي دی، چې ټول قرآن يو ځلې نه دی نازل شوی، بلکه وقتاً فوقتاً د موقع او مصلحت په لحاظ د جلا جلا آيتونو نزول شوی دی.

د پاک قرآن دغو ګردو دقائقو او حقائقو ته په مجموعي ډول سره چې انسان ورته ګوري؛ حق حيران پاتې کيږي، مګر د حيرت ځای نه دی، که د مطلق حکيم، او د برحق خبير په کلام دغه ګرد حکمتونه او محاسن سره مجموع نه وي؛ نو د هغه توقع په بل کوم کلام کې کېدی شي؟ ! بلکه له سره نشي کېدی.

أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ ۚ

چې عبادت مه کوئ (د هيڅا) مګر (يواځې) د الله عبادت کوئ.

تفسير: يعنې د دې محکم او مفصّل کتاب د نازلولو لوی مقصد دا دی، چې ټول عالم يواځې د الله واحد د عبادت په لورې متوجه شي، او د هغه بلنه نورو ته ورکړي، او طريقه يې وروښيي، نو د دغه عظيم او جليل مقصد لپاره ډومبی انبياوو تشريف راوړی وو، ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ﴾ (۱۷ جزء د الأنبياء سورت (۲۵) آيت (۲) رکوع)، ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ﴾ (۱۴ جزء د النحل سورت (۳۶) آيت (۵) رکوع).

إِنَّنِي لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ ﴿٢﴾

(او ووايه ای محمده !) چې بېشکه زه تاسې ته له (طرفه د) الله وېروونکی يم (له جحيمه) او زېری ورکوونکی يم (په نعيم سره).

تفسير: يعنې هغه څوک چې کتاب الله ومنې، او شرک او کُفر پرېږدي، او د الله واحد، احد، صمد عبادت وکړي؛ نو ده ته د دارينو د فلاح زېرى او بشارت اوروي، او هغه چې نه يې منې، او کفر او شرک ځان ته غوره کوي، نو هغه د الله تعالى له عذابه ويروي.

وَّاَنِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَّتَاعًا حَسَنًا اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّيُؤْتِ كُلَّ ذِيْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ ؕ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيْرٍ ۝۳

او (پس له توحيده امر کوم) چې مغفرت وغواړئ له ربه خپله (د تېرو ګناهونو) بيا رجوع وکړئ الله ته (په طاعت سره له ګناه نه) چې فائده در رسوي تاسې ته په نفع غوره سره تر هغې نېټې ټاکلې (مقرر کړى) شوى پورې، او ور به کړي (الله) هر خاوند د فضل ته فضل د هغه، او که وګرځېدئ تاسې (اى کفارو له اسلامه)؛ نو بېشکه زه وېرېږم پر تاسې له عذابه د ورځې لويې نه (د قيامت).

تفسير: هغه څوک چې د خپلو پخوانيو تقصيراتو معافي وغواړي، او د مستقبل لپاره دالله تعالى په لوري د زړه په صدق سره رجوع وکړي؛ نو دنيوي ژوندون يې په ښه ډول تېريږي، ځکه چې قانت مؤمن په هر حال کې د پاک الله فضل او کرم ته لوى لوى اميدونه، هيلې (ارزوګانې) او اسرې کوي، دى د الله د رضا غوښتلو او د مستقبل د عظيم الشانې خوشالۍ او مسرّت په تصور کې دومره محظوظ او مستغرق اوسيږي؛ چې د دې دنيا له ډېرو ربړونو (تکليفونو) او سختيو څخه هم دومره نه متأثر کيږي، دى چې کله خيال کوي چې زه په خپل ژوندون کې خپله فريضه په صحيح ډول سره پاى (انجام) ته ورسوم؛ چې د هغه صله به خامخا يوه ورځ د عرش عظيم د لوى څښتن (خاوند) له حضوره ماته راکوله کيږي.

﴿وَّيُؤْتِ كُلَّ ذِيْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ﴾ يعنې هومره يې چې عمل ورزياتيږي؛ په همغه اندازه د الله تعالى له فضله زياته برخه مومي، په آخرت کې اجر او ثواب او په دنيا کې زيات طمانيت او ډاډينه ور په برخه کيږي.

﴿وَاِنْ تَوَلَّوْا﴾ الآيه ـ يعنې که ځما خبره نه منئ؛ نو د قيامت عذاب يقيني دى، باقي داسې فرمايل: چې زه وېرېږم په تاسې؛ له دې نه مقصود د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم عمومي شفقت او د خلائقو سره د همدردۍ او خواخوږۍ اظهار دى.

اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۴ اَلَآ اِنَّهُمْ يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ لِيَسْتَخْفُوْا مِنْهُ ؕ اَلَا حِيْنَ يَسْتَغْشُوْنَ ثِيَابَهُمْ ۙ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۚ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝۵

خاص الله ته ببرته ورته ستاسې دي، او الله په هر څيز باندې ښه قادر دى. خبردار شئ ! بېشکه دوى (دا کفار) تاووي سينې خپلې (او پټوي عداوت د رسول په زړونو خپلو کې) لپاره د دې چې پټ کړي خپل ځانونه له الله نه، واورئ ! خبردار شئ ! په هغه وخت کې چې واغوندي دوى جامې خپلې؛ عالم دى (الله) په هغه څيز چې پټوي يې دوى (په سينو خپلو کې) او هغه څيز چې ښکاروي يې (په ژبو خپلو)، بېشکه الله ښه خبردار دى په پټو خبرو د سينو (هم).

تفسير: د سزا ورکولو لپاره دغه خبره ضروري ده؛ چې مجرم حاضر وي، حاکم ته د سزا ورکولو پوره قدرت او قوت او کامل اختيار حاصل وي، مجرمينو ته پر ټولو کارونو او اجراءاتو يې علم حاصل وي، په ﴿اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ﴾ کې دا راښوولي شوي دي، چې مجرم او غير مجرم ټول د پاک الله په دربار کې حاضريږي، په ﴿وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾ کې يې د

عمومي قدرت او اختيار بيان فرمايلى دى، او د ﴿أَلَآ إِنَّهُمۡ يَثۡنُونَ﴾ څخه تر ﴿بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ﴾ پورې د ده د محيط علم وسعت ظاهر شوى دى، چې پر پاک الله ظاهري او باطني ټولې خبرې يو شان ته ظاهرې او هيڅ يو شى ترې پټ نه دى، او پر هر شي باندې ښه پوهه او خبردار دى، تر دې پورې چې د زړونو د کومې له پټو خبرو، نياتو او اراداتو څخه هم باخبر دى، نو بيا مجرم خپل جرم په څه ډول له ده ځنې پټولى شي.

وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزۡقُهَا وَيَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا وَمُسۡتَوۡدَعَهَاۚ كُلّٞ فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ۝٦

او نشته هيڅ تلونکى (خوځېدونکى ذي روح) په ځمکه کې مګر چې دى پر الله رزق (روزي) د هغه (تفضّلاً ترحّماً نه وجوباً)، او عالم دى (الله) په ځاى د اوسېدلو د هغه او ځاى د سپارښدلو د هغه، ټول (دا مذکوره اشياء) په کتاب واضح کې دي.

تفسير: ړومبى د الله تعالى د علم وسعت بيان وو، دا د همغه مضمون تکمله ده، يعنې پر ځمکه د هر ساکنې (ذي ورح) تلونکى او خوځېدونکى چې طعام او خوړو ته احتياج لري، د هغو د ټولو رزق او روزي ورکول الله پاک محض پخپل فضل او کرم سره پخپله ذمه لازمه فرمايلې ده، هومره روزي چې د هر يوه لپاره مقدّره ده، هغه يقيناً وررسېدونکې ده، هغه وسائل او اسباب چې بنده يې اختياروي؛ ټول د روزي رسولو ابواب او وَرُونه دي.

﴿وَيَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا﴾ الآيه ـ «او عالم دى الله په ځاى د اوسېدلو د هغه او ځاى د سپارښدلو د هغه»، شاه صاحب ليکي: «(مستقر) هغه ځاى دى چې هستوګنه په کې کيږي، لکه جنت او دوزخ او (مستودع) هغه ځاى دى چې انسان په کې سپارل کيږي لکه قبر»، پاس په ﴿وَمَا مِن دَآبَّةٍ﴾ الآيه ـ کې د دنيوي ژوندون بيان وو، دلته د «برزخ» او د آخرت بيان دى، مطلب داسې دى: «او دى ښه خبردار دى».

د «مستقر» او د «مستودع» په تعيين کې د مفسرينو ډېر اقوال دي، چې د هغه په نسبت مونږ د الأنعام په سورت کې څه ليکلي دي.

وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ وَكَانَ عَرۡشُهُۥ عَلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۗ وَلَئِن قُلۡتَ إِنَّكُم مَّبۡعُوثُونَ مِنۢ بَعۡدِ ٱلۡمَوۡتِ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ۝٧

او دغه (الله) هغه ذات دى چې پيدا کړي يې دي آسمانونه او ځمکه په شپږو ورځو کې حال دا چې وو عرش (تخت) د ده پر اوبو (پيدا کړي دي الله دا ټول آسمانونه او ځمکه او ما فيهما لپاره د منافعو ستاسې او) لپاره د دې چې وازمويي تاسې چې کوم يو له تاسې ډېر ښه دى له جهته د عمل، او قسم دى چې خامخا که ووايي ته (خپل قوم ته) چې بېشکه تاسې بيا ژوندي کيدونکي يئ پس له مرګه؛ نو هرومرو وبه وايي خامخا هغه کسان چې کافران شوي دي، چې نه دى دغه (قرآن چې بيا ژوندون وايي) مګر سحر (جادو) ښکاره.

تفسير: په پيدايښت د آسمانونو او ځمکه کې د الله تعالى له علم څخه وروسته د ده د قدرت بيان دى، د دې تفسير (په ۸ جزء د الأعراف سورت په (۵۴) آيت (۷) رکوع کې) تېر شوى دى.

﴿وَكَانَ عَرۡشُهُۥ عَلَى ٱلۡمَآءِ﴾ يعنې د ځمکې او آسمان له پيدا کولو څخه پخوا اوبه مخلوق شوي، چې په مستقبل کې د ټولو اشياوو د ژوندانه ماده ګرځېدونکې شوې: ﴿وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّ﴾ (۱۷ جزء د الأنبياء (۳۰) آيت (۳) رکوع)، په دغه وخت کې د الله تعالى عرش د دې د پاسه وو، کله چې اوس د آسمانونو د پاسه دى، ګواکې دغه يو صورت وو چې دغه

حقیقت یې ښکاره کولو چې د کائناتو ماده او د حیات ذریعه بالکلیه د رب العرش تر تسلّط او تصرّف او مطلقه قیومیت لاندې ده، او د الله تعالی ذات حقیقة د عرش له پاسه دی، او عرش یې په نورو ټولو مخلوقاتو له پاسه دی، والله أعلم.

وَلَئِنْ أَخَّرْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِلَىٰ أُمَّةٍ مَّعْدُودَةٍ لَّيَقُولُنَّ مَا يَحْبِسُهُ ۗ أَلَا يَوْمَ يَأْتِيهِمْ لَيْسَ مَصْرُوفًا عَنْهُمْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٨﴾

او قسم دی چې خامخا که وروستی کړو مونږ له دوی څخه (هغه) عذاب (چې موعود دی) تر راتلو د اوقاتو شمېرلیو شویو پورې؛ نو هرومرو (خامخا) به وایي دوی (استهزاءً): څه څیز بند کړی دی دا (عذاب له نزوله؟ نو فرمایي الله) خبردار شئ واورئ ! په هغه ورځ چې راشي دا (عذاب) دوی ته؛ نو نه به وي (دا عذاب) دفع کړی شوی له دوی څخه، او چا پېر به شي له دوی نه هغه عذاب؛ چې وو دوی چې په هغه پورې به یې مسخرې کولې (او په جلتی به یې غوښت).

تفسیر: یعنې کله چې دغو کفّارو ته د دوی د شرارتونو له سببه د الله تعالی له عذابه وېره ورکوله کیږي؛ نو د تکذیب او استهزاء په ډول وایي چې: راوړه هغه عذاب دې چې دی؟ ولې نه رانازلیږي؟ او د څه لامله ځنډ (ایسارتیا) په کې کیږي؟ او د چا له لوري هغه ستون شوی دی؟ نو پاک الله فرمایي چې: آیا تاسې په داسې ویناوو سره ټوکې او مسخرې کوئ؟ او نه پوهېږئ چې هغه عذاب د الله تعالی د حکمت او مصلحت په اقتضاء تر یوه ټاکلي (مقرر کړي) مدت پورې معطل شوی دی؟ او پخپل معیّن وخت کې به خامخا داسې در ورسیږي، چې هیڅوک به یې مخه نشي نیولی، او له هر لوري څخه به په عذاب چار چاپېر کړی شئ، او ټول به فنا کېږئ.

وَلَئِنْ أَذَقْنَا الْإِنسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَاهَا مِنْهُ إِنَّهُ لَيَئُوسٌ كَفُورٌ ﴿٩﴾

او قسم دی خامخا که وروځکوو مونږ (کافر، یا ناشکر انسان) ته له نزده خپله رحمت (لکه صحت او نعمت چې اثر یې ښکاره وي)، بیا بېرته راټول کړو مونږ دا نعمت له ده نه؛ بېشکه دی خامخا نا امیده (له کرمه د الله) ناشکره (له نعمته د الله) وي.

تفسیر: یعنې که د څو ورځو له مخې یې الله تعالی د خپلې مهربانۍ په عیش او عشرت او آرامۍ کې وساتي، او بیا یې په کوم ربړ او تکلیف کې اخته او مبتلا کړي، نو دی هغه پخوانی هوسایي (آرام) او مهرباني هم بیخي له زړه وباسي او هیروي یې، او بې هیلې او نا امیده کیږي، او د مستقبل په نسبت بیخي بې اسره او مایوس کیږي، په تېره باندې ناشکري، او له راتلونکي څخه مایوسي همدا د ده د ژوندون حاصل دی.

وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ نَعْمَاءَ بَعْدَ ضَرَّاءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ السَّيِّئَاتُ عَنِّي ۚ إِنَّهُ لَفَرِحٌ فَخُورٌ ﴿١٠﴾

او قسم دی خامخا که وروځکوو مونږ دغه (کافر یا ناشکره انسان) ته نعمت (لکه صحت او هوسایي ـ آرام) وروسته له (هغه) ضرره چې رسېدلی وو ده ته؛ نو هرومرو (خامخا) وایي به دی خامخا: لاړې سختی (چې رارسېدلې وې) له ما ځنې، بېشکه دغه (انسان) خامخا خوشالیدونکی دی (پر نعمتونو) متکبّر فخر کوونکی دی (پر خلقو).

تفسیر: یعنې که له مصیبته وروسته بیا پاک الله ده ته آرامي او هوسایي ور په برخه کړي؛ نو بیا داسې ګڼي چې ګواکې اوس بیخي مصائبو او تکالیفو خاتمه ومونده له، او بیا هغه پخوانی کیفیت له سره راتلونکی نه دی، نو په دغه وخت کې د غفلت او غرور په نشو کې مستیږي، او فخر او تکبر او ځانمني (خودنمایي) کوي، او حال دا چې ده لره داسې په کار

وو؛ چې هغه خپل پخوانۍ حالت به يې تل په ياد درلود، او د الله تعالى شکر به يې ادا او د ده لطف او احسان په مقابل کې به يې د تواضع سر ښکته کوه.

إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ۚ أُولَٰئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿١١﴾

مګر هغه کسان چې صبر کوي (په سختۍ له قوته د ايمانه) او کوي ښه (عملونه لپاره د شکر د نعمت)؛ دغه(صابرين او شاکرين) شته دوی ته مغفرت (د ګناهونو) او اجر (ثواب) ډېر لوی.

تفسير: هغه حال چې مخکې د عامو انسانانو بيان شو، له هغه ځنې د الله تعالى هغه بندګان مستثنى دي، چې د تکليف او مصيبت مقابله په صبر او استقامت سره کوي، او د امن او راحت په وخت کې سره له شکر ايستلو په صالحه وو اعمالو کې هم خپل تياری ښکاره کوي، د همداسې اولوالعزمو او وفادارانو ټولې د عظيم الشان بخښش او انعام مستحق دی، او په ډېر لوی اجر چې ادنى يې جنت او اعلى يې ديدار دی؛ فايز کيږي.

فَلَعَلَّكَ تَارِكٌ بَعْضَ مَا يُوحَىٰ إِلَيْكَ وَضَائِقٌ بِهِ صَدْرُكَ أَن يَقُولُوا لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ كَنزٌ أَوْ جَاءَ مَعَهُ مَلَكٌ ۚ إِنَّمَا أَنتَ نَذِيرٌ ۚ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ ﴿١٢﴾

نو ښايي ته به پرېښودونکی يې (يعنې مه پرېږده) ځينې د هغه قرآنه چې وحي کولی شي تاته، او تنګېدونکې ده په (تبليغ د) هغه سره سينه (زړه) ستا (له دې وېرې) چې وايي به دوی: ولې نه ده نازله شوې په ده باندې خزانه (چې پرې وکړي عشرت)؟ يا (ولې نه ده) راغلې له ده سره پرښته (چې ورکړي شهادت د نبوت)؟ بېشکه همدا خبره ده چې ته ويرووونکی يې (له جحيمه، نه ځاروونکی د اعمالو د دوی)، او الله پر هر شي باندې وکيل (ښه ساتونکی) دی، (د هغه چا چې وروسپاري ځان خپل، نو له سره مه وېرېږه له عناد د دوی نه).

تفسير: د مکې معظمې مشرکان د شرک او بت پرستۍ له تردیده او بدو ويلو څخه ډېر په قهر ېدل، او په غيظ او غضب راتلل د مشرکيت پر خُرافاتو په هره اندازه چې د هغو تحميق او تجهيل کېده؛ په همغه اندازه به دوی د غُصې په اور کې سوځېدل، کله به يې کوښښ کوه چې پاک رسول په دغې معاملې کې لږ څه سست او پوست شي، او د دغې اساسي او لويې مسئلې په تبليغ کې له لږ څه نرمۍ او تساهل څخه کار واخلي، کله چې له دې لوري مايوس او بې هيلې (نا اميده) شول؛ نو تش د تکليفولو او محض خفه کولو لپاره په عجيبو چټې (بېکاره) غوښتنو پسې لګيا شول، مثلا ويل به يې چې: ته خو رښتين او د رسالت پر منصب مامور يې، نو له تا سره د پاک الله له درباره ښايي چې د مال او دولت لويه خزانه راغلې وی، يا له آسمانه له تا سره يو پرښته راتلی، چې هر چېرې به در سره د تصديق لپاره تللې وی: ﴿لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ كَنزٌ أَوْ جَاءَ مَعَهُ مَلَكٌ﴾ په همدغې سلسلې کې دغه آيتونه نازل شول، چې حاصل يې دا دی: «ته د دې خلقو د دغو چټې او بېکاره غوښتنو لامله مه غمجن او مه فکر مند او مه خفه کېږه، او مه پخپل زړه کې د دغو خلقو د خاطر او مراعاتو خيال ګرځوه !.

کله داسې کېدی شي ! هغه شيان چې الهي وحي تاته درښوولي دي، او د هغه د تبليغ حکم يې بې خوفه او بې خطره درکړی دی؛ چې ته د هغه ځينې برخې د دې خلقو له خرافاتو څخه د زړه تنګی په وجه پرېږدې، حال دا چې دغه کار امکان نه لري، ځکه چې د نبوت عصمت او د اولوالعزمۍ صفت يې مانع دی، نو بيا له زړه تنګۍ څخه څه فائده؟ ستاسې کار تش له خير او شر څخه خبرول دي، د دوی د هدايت ذمه واري پر تاسې نه ده، د دوی دغه معامله هم هغه الله تعالى ته وروسپاره؛ چې ګرد شيان هغه تهسپارلی شوي، او د ده په واک کې دي.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِ مُفْتَرَيَاتٍ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٣﴾ فَإِلَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّمَا أُنزِلَ بِعِلْمِ اللَّهِ وَأَن لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٤﴾

بلكه آيا وايي دوی چې له خپله ځانه جوړ کړی دی (محمد) دا (قرآن چې تصديق يې و کړي)؟ ووايه (ای محمده ! دوی ته): نو راوړئ تاسې لس سورتونه په شان د يوه سورت د ده (فصيح بليغ) له خپل ځان جوړ کړی شوی، او راوبولئ هغه کسان چې توانېږئ تاسې (لپاره د کومک) غير له الله څخه که يئ تاسې صادقان (رښتيني په دغې ادعا د افتراء کې). نو که جواب درنه کړ دوی تاسې ته (ای رسوله او مسلمانانو)؛ نو پوهه شئ (ای مسلمانانو) چې بېشکه همدا خبره ده چې رالېږلی شوی دی (قرآن) په علم د الله سره (د بنده کلام نه دی)، او (بل پوه شئ په يقين سره او پرې ثابت شئ) چې نشته هيڅ لايق د عبادت مګر هـم دغه الله دی، نو آيا يئ تاسې مسلمانان.

تفسير: ځينو مفسرينو د دې آيت ترجمه داسې هم کړې ده: «نو که جواب درنه کړ دغو بللو شويو تاسو ته ای مشرکينو !؛ نو پوه شئ ای کفّارو چې بېشکه همدا خبره ده، چې رالېږلی شوی دی دا قرآن په علم د الله سره، د بنده کلام نه دی، او پوه شئ تاسې په يقين سره چې نشته لايق د عبادت هيڅوک مګر هم دغه الله دی، آيا نو يئ تاسې مسلمانان غاړه ايښودونکي اسلام ته بلکه اسلام راوړئ !».

يعنې فرمايشي معجزې غواړي، چې د هغو ورکول مصلحت نه دی، او له هغو ټولو ځنې لويه معجزه قرآن چې د دوی په مخ کې دی؛ نه مني، او وايي (معاذ الله): دغه خو له خپله ځانه جوړې کړې خبرې دي، نو د هغه ځواب ورکوي، چې آخر تاسې هم عرب او د فصاحت او بلاغت دعوی کوونکي يئ؛ ټول سره راټول شئ، او د دې پاک قرآن د لسو سورتونو په شان نور لس سورتونه له خپله ځانه جوړ کړئ، او په دغه کار کې د خپلې مرستې لپاره ټول مخلوقات بلکه خپل هغه معبودان هم راوبولئ؛ چې تاسې يې په الوهيت کې شريکان ګڼئ، او که دا کار ونه کړی شئ، او له سره به يې ونه کړی شئ؛ نو وپوهېږئ چې داسې کلام يواځې د پاک الله کلام کېدی شي، چې د هغه له مثل راوړلو څخه ټول مخلوقات عاجز پاتې کيږي.

مَن كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ ﴿١٥﴾

هـر څوک چې وي (له خپلې کم همتۍ) چې غواړي يواځې ژوندون لږ خسيس او ښايست د ده (او د آخرت فکر نه کوي)؛ نو پوره به ورکړو دوی ته (بدل د) اعمالو د دوی په دې دنيا کې حال دا چې دوی په دې دنيا کې نه شي کم کېدلی (له بدل د اعمالو د دوی هيڅ شی).

تفسير: يعنې له داسې واضح ثبوت څخه وروسته څوک چې په قرآن ايمان نه راوړي، يا د هغه پر ښوولې لاړې نه ځي، بلکه د دنيا څو ورځې ژوندون او فاني ډول او سينګار يې د خپل مقصود قبله درولې وي، او عملي جد او جهد ورته کوي، که په ښکاره کوم نېک کار لکه خيرات او نور کوي؛ نو له هغه څخه هم د آخرت بهتري او د الله تعالی خوښي مقصود نه وي، او يواځې د دنيوي فوائدو حاصلول يې تر سترګو لاندې وي، د داسې خلقو په نسبت اعمّ له دې چې يهود وي که نصاری، مشرکين وي که منافقين يا دنيا خوښوونکي رياکار مسلمانان؛ دا يې رابښوولي دي چې په دنيا کې د دغو ټولو معامله پای (آخر) ته رسولی شي، هغه اعمال او کوښښونه چې دوی يې د دنيا د حصول لپاره اراده وفرمايي؛ ورعطا کوي يې.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ إِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا وَبَاطِلٌ مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾

دا هغه کسان دي چې نشته دوی ته په آخرت کې مګر اور، او خراب شوي دي هغه (نېک عملونه) چې کړي وو دوی په دې دنیا کې، او باطل دي (په آخرت کې) هغه عمل چې وو دوی چې کاوه به یې (په دنیا کې).

تفسیر: یعنې پر دغو اعمالو پرته (علاوه) له دوزخه د بل کوم شي مستحق نه دي، کفار په ابدي صورت او ریاکاران مسلمانان به تر محدوده مدت پورې په دوزخ کې پاتې کیږي، هو ! که الله تعالی ځنې مؤمنان محض پخپل فضل او کرم سره وبخښي؛ نو هغه بېله خبره ده.

په دنیا کې کوم کارونه چې تاسې د دنیوي اغراضو لپاره کړي وو، وروسته د آخرت له رسېدلو څخه درښکاریږي، چې هغه خراب او برباد تللي دي، او د ریاکارۍ او د دنیا خوښولو په سلسله کې ظاهرا هغه نیکي ا و محاسن چې کړي یې وي؛ هغه ګرد سره خراب او توی ځي، او هلته به یو شی په کار نه ورځي.

أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِ وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ وَمِن قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَىٰ إِمَامًا وَرَحْمَةً ۚ أُولَٰئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِ ۚ وَمَن يَكْفُرْ بِهِ مِنَ الْأَحْزَابِ فَالنَّارُ مَوْعِدُهُ ۚ فَلَا تَكُ فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُ ۚ إِنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٧﴾

آیا پس هغه څوک چې دی پر صاف برهان (واضح دلیل) له جانبه د رب خپل، او تابع وي دې د (برهان) پسې شاهد له (جانبه) د الله، او پخوا له دې (شاهده چې قرآن دی) کتاب د موسی (تورات شاهد وو) په دې حال کې چې پېشوا او رحمت وو (مؤمنانو ته دغه تورات، آیا هغوی او د دنیا غوښتونکو سره برابر دي؟ بلکه نه دي برابر، دغه خاوندان د برهان) دغه کسان ایمان لري په دې (قرآن)، او هر څوک چې کافر شو په دې (قرآن) له ګردو فرقو (د کافرو) څخه؛ نو اور (د دوزخ) ځای د وعدې د هغه دی (چې خامخا ورته ورځي)، نو مه کېږه په شک کې له دې (قرآن یا موعد نه)، بېشکه چې هغه حق دی له جانبه د رب ستا، ولیکن اکثره د خلقو نه راوړي ایمان (په دې خبره باندې چې منزّل من الله دی).

تفسیر: یعنې دغه سړی او هغه ریاکار دنیا پرست چې پخوا یې ذکر وشو؛ څرنګه برابر ېدی شي؟ له سره نه دي برابر، له «بینه ـ صافه لاره» څخه مراد هغه لاره ده؛ چې هر انسان پخپل اصلي او صحیح فطرت سره موافق تلنه وغواړي، په دې شرط چې د اطرافو او حوالیو له حالاتو او خیالاتو ځنې متأثر نشي، او هغه د اسلام او د توحید او د قرآن سمه لاره ده: ﴿فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾ (٢١ جزء د الرّوم سورت (٣٠) آیت (٤) رکوع)، او په حدیث کې راغلي دي: «كلُّ مولودٍ يولدُ على فطرةِ الإسلام، فأبواه يهوّدانه أو يُنصرانه، أو يُمجّسانه ـ الحديث».

او ﴿شَاهِدٌ مِّنْهُ﴾ ګواه د پاک الله له لوري لوی قرآن دی، چې ګواهي ورکوي: چې د فطرت پر دین توحید او اسلام باندې تلونکي پر سمه لاره تلونکي دي، او همغه قرآن چې پر خپل حقانیت باندې هم پخپله ګواه دی، د لمر دلیل پخپله لمر دی.

څرنګه چې د پاک قرآن راوړونکي جبرئیل امین علیه السلام او آخیستونکی یې محمد امین علیه السلام دی، نو په دغه اعتبار دغو دواړو ته هم شاهد ویلی شي، بلکه پخپله د رسول الله مبارک شان دغه دی، چې د ده اخلاق، عادات،

معجزات، مبارکه ژبه، نوراني څېره او له نورو ټولو شیانو څخه يې معلومیږي، او هر یو ببل ببل شهادت ورکوي، د هغه دین حامل چې محمد صلی الله علیه وسلم دی؛ هغه حقیقتاً بیخي حق او رښتیا دی، وروسته د ﴿وَمِنْ قَبْلِهِ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامًا وَرَحْمَةً﴾ دغه مطلب دی، چې پخوا له قرآنه هره وحي چې پر هر نبي راغلې ده؛ هغه هم د فطرت د دین پر صداقت ګواه ده، خصوصاً هغه عظیم الشأن کتاب «تورات» چې پخوا له قرآنه پر موسی علیه السلام نازل شوی دی؛ هغه یو لوی شاهد د هغو خلقو پر حقانیت ښایي وویلی شي؛ چې د فطرت د دین پر صافه لاره تلونکي دي.

﴿أُولَٰٓئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ﴾ الآیه - یعنې یهود او نصاری، بت پرست، عرب عجم، آسیا، افریقا، امریکا، اوروپا، استرالیا او نور له هرې فرقې او هر جماعت چې د هر ملک او ملت څخه وي، تر څو پاک قرآن ونه مني؛ نو له سره يې نجات په برخه کېدی نشي، لکه چې د صحیح مسلم او د نورو په احادیثو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډېره تصریح او تعمیم سره دغه بیان فرمایلی دی.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ۚ أُولَٰٓئِكَ يُعْرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمْ وَيَقُولُ الْأَشْهَادُ هَٰٓؤُلَآءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَىٰ رَبِّهِمْ ۚ أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّٰلِمِينَ ﴿١٨﴾ الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا وَهُم بِالْءَاخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ ﴿١٩﴾

او څوک دی ډېر ظالم له هغه چا چې تړي له ځانه پر الله پورې دروغ (چې نسبت د ولد یا د شریک ورته کوي؛ بلکه نشته)، دغه (دروغ تړونکي) وړاندې به کړل شي په (قیامت کې) رب خپل ته، او وبه وایي شاهدان (کرام الکاتبین او نور) چې هم دوی دي هغه کسان چې دروغ يې تړلي وو په رب خپل (په نیولو د ولد او شریک سره، نو فرمایي الله): واورئ ! خبردار شئ ! لعنت د الله دې وي پر ظالمانو. هغه ظالمان (کافران) چې اړوي خلق له لارې (د دین) او لټوي دوی په دغې (لارې) کې کوږوالی (عیب)، او هم دوی په آخرت هم دوی کافران منکران کېدونکي دي.

تفسیر: یعنې پاک قرآن دروغ او افتراء نه دی، بلکه د پاک الله حق او رښتیا پیغام دی، چې قبلول او منل يې ضروري دي، او ښه وپوهېږئ چې له هغه سړي څخه زیات ظالم بل هیڅوک نشي کېدی؛ چې پر الله تعالی باندې دروغ وتړي، مثلا که د الله کلام نه وي، او دې ووایي چې دغه د الله کلام دی، یا واقعي د پاک الله کلام وي، او پخپله الله تعالی څو څو کرته وفرمایي چې دغه ځما کلام دی، مګر دوی سره له روښانو دلائلو هغه دروغجن کوي.

﴿أُولَٰٓئِكَ يُعْرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمْ﴾ الآیه - «دغه دروغ تړونکي به وړاندې کړی شي په قیامت کې رب خپل ته» په محشر کې کله چې دوی د پاک الله په مخ کې علی رؤوس الأشهاد وړاندې کیږي، او د دوی د شرارتونو دفاتر پرانستلی شي؛ نو په دغه وخت کې شاهدي ورکوونکي (ملائکې، انبیاء، صالحین، بلکه د دوی خپل لاسونه، او پښې او رئیسه اعضاء) به ووایي، چې دوی همغه بدبختان ظالمان دي، چې د خپل پاک الله په نسبت يې دروغ تړلي وو، او چتې (بېکاره) خبرې به يې کولې.

أُولَٰٓئِكَ لَمْ يَكُونُوا۟ مُعْجِزِينَ فِى الْأَرْضِ وَمَا كَانَ لَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَآءَ ۘ يُضَٰعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ ۚ مَا كَانُوا۟ يَسْتَطِيعُونَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوا۟ يُبْصِرُونَ ﴿٢٠﴾

دا کفار نه دي دوی عاجز کوونکي (د الله) په ځمکه کې، او نه به وي دوی ته غیر له الله هیڅ دوستان (چې عذاب ترې دفع کړي که اراده وفرمایي بلکه) دوه چنده به کړ شي دوی ته عذاب،

نه وو دوی چې طاقت يې لرلی وی د اورېدلو (د حق) او نه وو دوی چې ليدلي يې وی (دلائل د قدرت).

تفسير: يعنې په دومره وسيعې او ارتې ځمکې کې نه چېرې تښتېدی شي، او نه په کوم ځای کې پټېدی شي، او نه يې ځوک مددګار او حمايت او مرسته کوونکی کېدی شي، چې دوی د الله تعالی له عذابه بچ کړي، ځکه چې دوی هم پخپله بې لارې او ګمراهان شوي دي، او هم نور خلق يې ګمراهان کړي دي.

﴿مَا كَانُوا يَسْتَطِيعُونَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوا يُبْصِرُونَ﴾ نه وو دوی چې طاقت يې وی د اورېدلو د حق د زړه له کوټوالي، او نه وو دوی چې ليدلي يې وی دلائل د قدرت د زړه له ړوندوالي، يعنې په دنيا کې داسې ړانده او کانه شوي دي؛ چې نه د حق د خبرو د اورېدلو توان لري، او نه د الله تعالی د قدرت دلائل او ننبې ليدلی شي، چې د هغو په ليدلو سره ممکن دي چې د هدايت سمه صافه لاره وموميِ.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٢١﴾

هم دوی دي هغه کسان چې زيان يې رسولی دی نفسونو (ځانونو) خپلو ته، او ورک شول له دوی هغه چې وو دوی چې دروغ يې ترړل.

لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْأَخْسَرُونَ ﴿٢٢﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَخْبَتُوا إِلَىٰ رَبِّهِمْ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٣﴾

حقه خبره دا ده چې بېشکه دوی په آخرت کې هم دوی ډېر زيانکاران دي (له نورو نه). بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه) او عاجزي کوي دوی رب خپل ته دغه کسان صاحبان (اوسيدونکي) د جنت دي، دوی به په دې جنت کې همېشه وي.

تفسير: د مجرمينو د بد انجامی او د خرابې خاتمې په مقابل کې يې د مؤمنينو انجام او حسن د خاتمې بيان وفرمايه، د دوی عجز او نياز (خلوصيت) د پاک الله خوښ شو، نو ځکه د دائمې خوښۍ مقام يې ورعطا کړه.

مَثَلُ الْفَرِيقَيْنِ كَالْأَعْمَىٰ وَالْأَصَمِّ وَالْبَصِيرِ وَالسَّمِيعِ ۚ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾

مثال د دې دواړو فرقو (داسې دی) لکه د ړانده او د کانه او (لکه) د ليدونکي او د اوريدونکي، آيا برابر دي دغه دواړه له جهته د مثاله (او صفته؟، بلکه نه دي برابر)، آيا نو نه اخلئ پند تاسې؟ (په دغو مثالونو سره او فکر په کې نه کوئ).

تفسير: يعنې منکرين ړانده او کانه دي، لکه چې درې آيته پخوا له دې نه يې وفرمايل: ﴿مَا كَانُوا يَسْتَطِيعُونَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوا يُبْصِرُونَ﴾ بيا هغه چې نه پخپله څه ليدلی شي، او نه له بل چا څخه څه شی اورېدلی شي، د دوی ابتداء او انتهاء د هغوی رونې ضمير له ايماندارانو سره څرنګه برابرېدی شي، هغه کسان چې د بصيرت په سترګو د حق او باطل او خير او شر په منځ کې تميز کوي، او د خپلو هاديانو خبرو ته غوږونه نيولي غور کوي، چې د دواړو پای (آخر) او انجام څرنګه يو شان کېدی شي؟ بلکه نشي کېدی، وروسته د نوح عليه السلام د قوم قصه د دې مضمون په تاييد وړاندې کوي.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٥﴾ أَن لَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٢٦﴾

او هرومرو په تحقيق لېږلی وو مونږ نوح قوم د ده ته (حال دا چې ويونکی وو): بېشکه زه تاسې ته يم ويروونکی (له جحيمه) ښکاره. چې مه کوئ تاسې عبادت (د بل چا) بې له الله، بېشکه زه ويرېږم پر تاسې له عذابه د ورځې دردناکې (د قيامته) څخه.

تفسير: يعنې په نهايت وضاحت سره زه هغه شيان درښيم چې د هغو په ارتکاب سره د مهلک عذاب د نازلېدو اند ښښنه ده، يا د هغه د محفوظيت ذرائع دي.

﴿أَنْ لَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ﴾ «مه کوئ عبادت د بل چا بې له الله !»، يعنې د (ودّ) او (سواع) او (يغوث) او (يعوق) او (نسر) چې ذکر يې د نوح عليه السلام په سورت کې راځي؛ عبادت پرېږدئ ! او د واحد احد الله تعالى په عبادت کې مشغول شئ ! که نه د غير الله له عبادت څخه د بېرته نه ګرځېدلو په صورت کې د سخت عذاب د راتلو خوف دی.

فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ مَا نَرَاكَ إِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّأْيِ ۖ وَمَا نَرَىٰ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَاذِبِينَ ﴿٢٧﴾

نو ووېل هغو مشرانو چې کافران شوي وو له قومه د دغه (نوح) چې: نه وينو مونږ تا مګر يو بشر پشان ځمونږ (بل څه مزيت نه لرې)، او نه وينو مونږ تا چې متابعت کړی ستا (هيڅا) مګر هغه کسانو چې دوی د لاندې (ښکته) ځمونږ دي په بې فکرۍ سره (يعنې سرسري نظر والا دي)، او نه وينو مونږ تاسې لره پر مونږ باندې هيڅ بهتري، بلکه ګمان کوو مونږ پر تاسې د دروغجنانو.

تفسير: يعنې ښايي چې رسول د ټول قوم په مقابل کې د کومې ښکاره نښې او امتياز لرونکی وي، ليکن مونږ ګورو چې ته هم ځمونږ په شان د بشر له جنسه يې، او د آسمان پرښتنه نه يې چې د هغې په مقابل کې خامخا انسان خپل سر ښکته کړي، بيا په بشريت کې هم ته داسې يو سړی نه يې چې په تا کې کوم خاص تفوّق او لويي پر مونږ باندې وي، مثلاً لوی دولتمن، يا د شان او شوکت خاوند، يا د حکومت او قوت مالک اوسي، هغه کسان چې ستا پيروان او تابعان شوي دي؛ هغو هم ګرد ټول سره داسې خواران، غريبان، مفلسان او رذيلان دي چې له هغو سره مونږ شرفاء او غټان خپل ملاقات او خبرې کول شرم او ننګ بولو، نو آيا په ټولو انسانانو کې همدا ته پيدا شوی يې چې د الله تعالى د رسالت د منصب وړ او لايق وې؟ حال دا چې مونږ ستا په نسبت په حسب او نسب، مال او دولت، خَلق (پيدايښت) خُلق (رشه، خوی، عادت) او په نورو شيانو کې له هيڅ پلوه له تا څخه کم نه يو، نو ولې ځمونږ له منځه بل څوک پر دغه لوی منصب د رسالت باندې منتخب او غوره نشو؟ يا لږ تر لږه ستاسې تابعين او پيروان ښايي چې کوم معزز او لوی سړي خو وی.

دا د هغو ملعونانو د تقرير ما حصل وو، نوح عليه السلام کوم جواب چې دوی ته ورکړی دی؛ دادی:

قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَآتَانِي رَحْمَةً مِّنْ عِندِهِ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ أَنُلْزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمْ لَهَا كَارِهُونَ ﴿٢٨﴾

ووېل (نوح) ای قومه ځما ! آيا وينئ خبر راکړئ تاسې (ماته) که يم زه پر سمه لاره (واضح برهان ښکاره حجت) له ربه خپله، او راکړی يې وي ماته رحمت له نزده خپله، نو پټ کړی شوی

دی (حقیقت د دې دلیل) پر سترګو ستاسې، آیا مجبور کولی شو مونږ تاسې په قبول د هغو سره (بلکه نه شو) حال دا چې تاسې دغه (برهان) لره بد ګڼونکي انکار کوونکي یئ.

تفسیر: دا خبره صحیحه ده چې نبي له عامو انسانانو څنې ښایي بیخي ممتاز وي، لیکن هغه امتیاز په مال، دولت، حکومت، او نورو دنیوي شان او شوکت کې نه وي، بلکه په اعلی اخلاقو، ډېرو ښو ملکاتو، تقوی، د الله تعالی و بره، حق خوښول، له خلائقو سره همدردي او خواخوږي، او د صریحو او ښکاره وو آیتونو او نښو له وړاندې کولو څخه ورته امتیاز حاصل وي، چې حق تعالی هغه د بُرهان او د حجّت د اتمام او د نعمت د اکمال په ډول په هغو کې قائموي، یا د هغو په وسیله یې ښکاره کوي، نبي علیه السلام د الله تعالی د وحیې او د ربّاني دلائلو او براهینو په رڼا کې پر صافه سمه لاره درومي، او شپه او ورځ د الله تعالی خصوصي رحمتونه پرې لکه باران (وریا) ووري، نوح علیه السلام وویل: «که دغه ټول شیان په ما کې په ښکاره ډول سره موجود وی، او یقیناً موجود هم دي، لیکن همغسې چې ړوند د لمر رڼا نشي لیدلی؛ نو که ستاسې سترګې هم د الله تعالی د دې نور له لیدلو څخه قاصرې وي؛ نو آیا زه به په زور سره تاسې ته هغه نور او رحمت درښوولی شم؟ یا یې بالجبر پر تاسې اقرار کولی شم؟.

وَيٰقَوْمِ لَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَمَآ أَنَا بِطَارِدِ الَّذِينَ آمَنُوٓا ۚ إِنَّهُمْ مُلَٰقُوا رَبِّهِمْ وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ ﴿٢٩﴾

او ای قومه ځما! نه غواړم زه له تاسې په دغه (تبلیغ) څه مال (مزدوري)، نه دی اجر (مزدوري) ځما مګر په الله باندې، او نه یم زه شړونکی د هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (په وینا ستاسو، ځکه چې) بېشکه دوی ملاقات کوونکي دي له ربه خپله سره، ولیکن زه ګورم تاسې داسې قوم چې جاهلان یئ (له عاقبته خپله او له شرف د دغو مؤمنانو).

تفسیر: یعنې زه د تبلیغ په مقابل کې له تاسې څخه څه تنخوا او طلب نه غواړم، چې د مالي خود غرضۍ اندېښنه تاسې ته پیدا شي، زه د خپل الله خاص بنده او نوکر یم، او د ده له درباره ماته اجر راکول کیږي، الحمد لله زه نه ستاسې د مال طالب یم، او نه ورته ضرورت لرم، نو بیا به زه څرنګه فقراء او مساکین پرېږدم، او تاسې ته به خپل تمایل (میلان) درښکاره کوم؟ که تاسې زما اتباع تش د هغوی د افلاس یا عادي کارونو له سببه حقیر او ذلیل ګڼئ؛ نو ښه وپوهېږئ چې زه له هغو کسانو څخه نه یم چې د ایمان د دولت پانګې (سرمایه) لرونکو ته د دوی د ظاهري پرېشانۍ او بې وزلۍ (کمزورۍ) لامله په سپکه وګورم، یا هغوی لکه د حیواناتو په شان ټېل وهم، او له خپله ځانه یې لرې وشړم، دوی به یوه ورځ د خپل پاک الله په حضور کې مشرفیږي، او ځما شکایت به د ده په دربار کې کوي، چې ستا رسول د متکبّرانو دنیادارانو په خاطر مونږ وفاداران غریبان یې له خپله حضوره لرې کړي وو، زه د ظاهري وضعیت په خلاف به څرنګه پوهېدی شم، چې د هغوی ایمان یواځې ظاهري او سطحي دی، د زړونو څیرول او د هغه لیدل ځما کار نه دی، او د دغو امورو اطلاع او پته یواځې پاک الله سره ده، او هغه ښه پوهیږي چې د دوی د زړونو احوال څه دی؟.

وَيٰقَوْمِ مَن يَنصُرُنِي مِنَ اللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمْ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣٠﴾

او ای قومه ځما! څوک به مرسته وکړي له ما سره (چې ما وساتي) له عذابه د الله که وشړم زه دوی؟ (بلکه هیڅ یې نشي کولی)، آیا نو پند نه اخلئ تاسې.

تفسیر: یعنې زه ستاسې له کبره او غروره او جهالته متأثر شوی څرنګه خپل نقصان وکړم؟ که ستاسې په رعایت زه د الله تعالی مخلصو بندګانو ته څه ووایم، یا یې وشړم، نو د هغه د سزا او له پوښتنې څخه به مې څوک ژغورلی (خلاصولی) شي؟.

وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ وَلَآ أَقُولُ إِنِّي مَلَكٌ وَلَآ أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِيٓ أَعْيُنُكُمْ لَن يُؤْتِيَهُمُ ٱللَّهُ خَيْرًا ۖ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا فِيٓ أَنفُسِهِمْ ۖ إِنِّيٓ إِذًا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣١﴾

او نه وايم زه تاسو ته چې ما سره خزاني د الله دي، او نه (وايم دا چې) بېشکه زه پرښته يم، او نه وايم زه په حق د هغو (فقيرانو مؤمنانو کې) چې سپک ورته ګوري سترګې ستاسې؛ چې له سره به ورنه کړي دوی ته الله هيڅ خير، الله ښه عالم دی په هغه (اخلاص) چې په نفسونو د دوی کې دی، (که زه دغه ووايم)؛ نو زه په دغه وخت کې خامخا له ظالمانو څخه به يم.

تفسير: کفّارو نوح عليه السلام ته ويلي وو چې: «ته خو ځمونږ په شان يو بشر يې، د قوت، قدرت، او دولت او اموال او رجال په اعتبار هم پر مونږ څه امتياز نه لرې»؛ نو نوح عليه السلام د دې خبرې جواب په ډېر متانت او انصاف سره ورکړ چې: «بېشکه هغه امتياز چې تاسو يې ليدل غواړئ زه يې مدعي نه يم، بلا شبهه زه خو يو بشر يم، پرښته نه يم، نه الله تعالى خپلې ټولې خزانې ځما په تصرف او اختيار کې ايښې دي، او نه يې د غيب پر خبرو مطلع کړی يم، ليکن سره د دغو ټولو خبرو د اعتراف سره زه ستاسې په شان له سره داسې نشم ويلی؛ چې هغه خلق چې ستاسې په نظر کې معيوب او حقير دي (يعنې زه او ځما ملګري) هغوی ته به له سره پاک الله هيڅکله څه خير او ښېګڼه (فائده) نشي ورکولی، مثلا له هغو څخه يې ځينو ته نبوت او حکمت عطا فرمايلی دی، او نور يې د ايمان او عرفان په دولت سره ګټور (نفع مند) کړي دي.

تنبيه: د دې آيت ابتدايي درې جملې په (۷) جزء د الأنعام د سورت په (۵۰) آيت (۴) رکوع کې تېرې شوي دي، د هغه ځای په تفاسيرو کې دې بيا ولوستلی شي.

قَالُوا۟ يَٰنُوحُ قَدْ جَٰدَلْتَنَا فَأَكْثَرْتَ جِدَٰلَنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٣٢﴾

وويل (کفارو) ای نوحه ! په تحقيق جګړه دې وکړه له مونږ سره پس ډېره دې کړه جګړه ځمونږ؛ نو راوړه مونږ ته هغه عذاب چې وعده يې کوې ته له مونږ سره (يا ويروی مونږ په هغی سره) که يې ته له صادقانو (رښتيا ويونکو په دې وعيد خپل کې).

تفسير: نوح عليه السلام پخوا له طوفانه نهه سوه او پنځوس کاله په دوی کې شپه او ورځ په پټه او په ښکاره هغو ته پند او نصيحت کاوه، او د هرې شېبې ځواب يې ورکاوه، د تبليغ، تفهيم، بحث، مناظرې، خبرو اترو سلسله جاري وه، په دغو جګړو کې په سلهاوو کلونه تېر شول، کفار د نوح عليه السلام د دغو حقاني مباحثو او د شپې او د ورځې ممانعت او مزاحمت څخه عاجز او تنګ شول، او ټولو سره وويل چې: اوس دغه سلسله رابنده کړه ! که په رښتيا سره ته رښتيا وايې؛ نو هغه عذاب ژر رانازل کړه ! چې مونږ د عذاب له نزول څخه تل وېروې ! څو دغه د هرې ورځې جګړه بيخي پای (آخر) ته ورسيږي، او دا مناقشه بالکل ختمه شي.

قَالَ إِنَّمَا يَأْتِيكُم بِهِ ٱللَّهُ إِن شَآءَ وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٣٣﴾

نو وويل نوح: بېشکه همدا خبره ده چې رابه ولي تاسې ته دا عذاب خاص الله که اراده وفرمايي، حال دا چې نه يئ تاسې عاجز کوونکي (د الله په دفع د عذاب په زور يا په تېښتې سره).

تفسير: يعنې د دغه عذاب نزول ځما په قبضه کې نه دی، څه مهال (وخت) چې پاک الله سم له خپله حکمت سره اراده وفرمايي؛ نو عذاب نازلوي، ځما فرض يواځې خبرول دي، پاتې شو عذاب؛ هغه خو داسې هولناک او عظيم الشان شی

دی، چې د هغه راوړل، یا یې مخه ببرته آړول، دواړه د بشر له قوې خارج دي، کله چې الله تعالی مشیئت وفرمایي؛ نو څوک ترې نشي تبښتېدلی، او نه ترې چېرې پټېدی شي، داسې څوک دي؟ چې (معاذ الله) پاک الله سترې او ستومان کړي، او ځان ترې وژغوري (بچ کړي).

وَلَا يَنفَعُكُمْ نُصْحِيٓ إِنْ أَرَدتُّ أَنْ أَنصَحَ لَكُمْ إِن كَانَ اللَّهُ يُرِيدُ أَن يُغْوِيَكُمْ ۖ هُوَ رَبُّكُمْ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٣٤﴾

او نه نفع در رسوي تاسې ته نصیحت ځما که اراده وکړم زه چې نصیحت وکړم تاسې ته که وي الله چې اراده لري د دې چې ګمراه وفرمایي تاسې، همدی دی رب ستاسې (هر څه چې غواړي هغه ستاسې سره کولی شي)، او خاص هم ده ته ببرته بیولی کېږئ (پس له مرګه په قیامت کې).

تفسیر: یعنې: که زه هومره نصیحت او خیر غوښتنه مو وکړم، او تاسې ته ګټه (فائده) دررسونه وغواړم؛ له سره به هغه نافع او مؤثره نه لویږي، ستاسې رب همغه ذات دی چې د هغه په ملکیت او تصرف کې هر شی دی، له هر چا سره چې هر معامله وفرمایي؛ هیڅوک یې مخه نشي نیولی، د ټولو رجوع او ورتګ د همده په لوري دی، همغه د ټولو اعمالو جزا او سزا ورکوونکی دی.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ فَعَلَيَّ إِجْرَامِي وَأَنَا بَرِيٓءٌ مِّمَّا تُجْرِمُونَ ﴿٣٥﴾

(وفرمایل الله) بلکه آیا وایي دوی چې له خپله ځانه یې جوړه کړې ده دغه (وحي)؛ ووایه (ای رسوله دوی ته) که مې له ځانه کړي وي دغه وحي؛ نو خاص پر ما دی عقوبت د ګناه ځما، او زه بېزاره یم له هغې ګناه چې تاسې یې کوئ.

تفسیر: دغه خبرې اترې د مکې معظمې د کفارو وې له پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم سره؛ چې دغه قرآن تاسې له خپله ځانه جوړ کړی دی، او د پاک الله کلام نه دی، نوح علیه السلام کتاب نه وو راوړی چې د نوح علیه السلام قوم داسې خبرې وکړي (کذا في الموضح).

لیکن ځینو مفسرینو دغه آیت هم د نوح علیه السلام د قصې جز ښوولی دی، یعنې د نوح علیه السلام قوم وویل: هغه خبرې چې نوح د الله تعالی په لوري منسوبوي، هغه یې له خپله ځانه ترلي دي.

ځینې وایي چې: دغه وینا خو د مکیانو ده له پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم سره، مګر د هغه تعلق خاص د نوح علیه السلام له قصې سره وو، ګواکې هغوی ویل چې: دغه داستان تاسې په دروغو سره جوړ کړی دی، او په واقع کې په دغو قصو کې له سره حقیقت نشته، او اصل نه لري.

وَأُوحِيَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ آمَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

او وحي کړی شوې وه نوح ته چې بېشکه شان دا دی؛ چې له سره به ایمان رانه وړي له قومه ستا مګر هغه چې په تحقیق ایمان یې راوړی دی (پخوا له دې نه)؛ نو مه غمجن کېږه په هغه (ایذاء او تکذیب) چې وو دوی چې کول به یې (او رسول یې درته).

تفسیر: کله چې د قوم ایذاوې او تکلیفونه له حده تېر شول، نوح علیه السلام د سلهاوو کلونو د تکلیف تېرولو او جور او جفاء لیدلو ځخه وروسته د پاک الله په دربار کې شکوی وفرمایله چې: ﴿أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانتَصِرْ﴾ «زه مغلوب او ضعیف یم، ته له دوی نه زما بدل واخله!»، ارشاد وشو چې: د هغو څو شمېرلیو غورو خلقو په قسمت کې چې ایمان لیکلی شوی وو، هغوی خو ټولو ایمان راوړ، وروسته له دې نه د دوی له منځه بل هیڅوک نه مسلمانېږي، نو ځکه اوس تاسې د

دوی له عداوت او تکذیب او ایذاء رسولو څخه زیات مه غمجن کېږئ، عنقریب د الله تعالی د انتقام توره راوځي، او د دوی دغو ټولو شرارتونو ته سره سره له دغو شریرانو خاتمه ورکوي.

وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا ۚ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٣٧﴾

او جوړه کړه ته ببړې ځمونږ د سترګو لاندې (چې وینو دې او حفاظت دې کوو)، او په حکم ځمونږ، او مه کوه خبرې ما سره (په دفع د عذاب) په حق د هغو کسانو کې چې ظالمان (کافران) شوي دي، چې بېشکه په دوی باندې حکم کړی شوی د غرقېدلو (نجات يې نشته).

تفسیر: حق تعالی نوح علیه السلام ته وفرمایل چې: ځما د سترګو لاندې یعنې ځمونږ په نګرانۍ کې او ځمونږ د حکم، تعلیم، الهام، او پیغام سره سم یوه ببړې تیاره کړه !، ځکه چې عنقریب د اوبو یو ډېر سخت طوفان راتلونکی دی، چې په هغه کې دغه ټول ظالمین او مکذبین بالیقین ډوبېږي، او د دوی په حق کې دغه حکم او فیصله حتماً او جزماً منطبقه کیدونکې ده، ته د هیڅ یو ظالم سپارش مه کوه ! او د دوی د شفاعت لپاره ماته مخ مه ګرځوه ! ځکه چې راتلونکی عذاب له سره منع کېدونکی نه دی، بلکه بیخي قطعي او حتمي دی.

وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِّن قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ ۚ قَالَ إِن تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ ﴿٣٨﴾

او جوړوله (نوح) ببړې حال دا هر کله چې تېرېدله به پر دغه (نوح) ډله (د مشرکانو یا مشرانو) له قومه د نوح؛ نو مسخرې به یې کولې په دغه (نوح) پورې، نو وویل (نوح): که مسخرې کوئ تاسې پر مونږ پورې؛ نو بېشکه مونږ به هم مسخرې وکړو په تاسې پورې لکه چې اوس مسخرې کوئ تاسې (پر مونږ پورې).

تفسیر: نوح علیه السلام به ببړې جوړوله نو کله چې به د ده قوم دغه عجیب شی (ببړی) لیدله؛ نو نوح علیه السلام څخه به یې پوښتنه کوله چې: «ته دغه څه جوړوې؟» ده به ویل چې: «یو داسې کور جوړوم چې د اوبو په سر به درومي، او له ډوبېدلو څخه به مونږ بچ کوي»، کفار به د دې خبرې له اوریدلو ځنې له خندا شنه او په مسخرو کې به سره لګیا کېدل، او پخپلو منځونو کې به یې ویلې، چې دغه سپین ګیري ته وګورئ چې له اوبو څخه لرې په وچه لوړه (اوچته) ځمکه کې له اوبو څخه د نجات په فکر کې ډوب تللی دی.

شاه صاحب لیکي: «کفارو به خندل چې نوح علیه السلام په وچه ځمکه کې له ډوبیدلو څخه د نجات په فکر کې لوېدلی دی، نوح علیه السلام پر دوی باندې خندل، چې مرګ د دوی پر سر باندې ځوړند او ولاړ دی، او دوی ورته خاندي».

فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٣٩﴾

نو ژر به وپېژنئ تاسې هغه څوک چې رابه شي ورته (داسې) عذاب چې وبه شرموي ده لره په (غرق سره) او راکوزېږي به په ده عذاب دائم (په حرق سره).

تفسیر: یعنې اوس څه زیات تاخیر نشته، او ژر تر ژره به درښکاره شي، چې د دنیا رسوا کوونکی او د آخرت دائمي عذاب پر چا نازلېږي؟ .

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَمۡرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ قُلۡنَا ٱحۡمِلۡ فِيهَا مِن كُلّٖ زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِ وَأَهۡلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيۡهِ ٱلۡقَوۡلُ وَمَنۡ ءَامَنَۚ وَمَآ ءَامَنَ مَعَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٞ ٤٠

تر هغه پورې چې راغی امر (حکم د عذاب) ځمونږ او راوخوټېده تنور (یعنې اوبه له تناره، بیا چې عذاب سر راوړ نو) وویل مونږ (نوح ته) سواره کړه په دې ببړۍ کې له هرې (نوعې د حیواناتو څخه) جوړه دوه دوه (نر او ښځه)، او اهل خپل، مګر مه سوروه هغه چې ړومبی شوې ده په ده وینا (او حکم د ډوبېدلو) او هغه (هم سواره کړه) چې ایمان یې راوړی دی، او نه وو ایمان راوړی سره له دغه (نوح) مګر خو لږو خلقو.

تفسیر: یعنې نوح علیه السلام تر هغه وخته پورې د ببړۍ په جوړولو کې مشغول وو، چې د الله تعالی له وعدې سره موافق ټولو وربځو ته حکم ورسېد، چې «تولې سره ور ووربړئ، او ځمکې ته وویل شو: چې خپلې ټولې اوبه وخوټوه، او پرښتو ته وویل شو چې: تاسې د خپل تعذیب او نورو منصبي فرائضو په ځای راوړلو کې متوجه شئ !»، بالآخر له پاسه سخت بې درېغه باران وورېده، له ښکته د ځمکې له سطحې د زوروړو او سختو خوټېدونکو چینو او تندوبي (فوارې) په شانې په جوش وهلو او خوټېدلو باندې شروع وکړه، تر دې چې د ډوډۍ پخولو له تنورونو څخه هم چې له اور ځنې ډک پک وو، هم اوبه راووتې.

له ابن عباس رضي الله تعالی عنه څخه منقول دي، چې د «تنور» معنی وجه الأرض او د ځمکې مخ دی، مونږ پاس کوم تفسیر چې کړی دی، همدغه معنی مو مقدمه ایښې ده، او د نورو معانیو په لوري مو هم اشاره کړې ده، حافظ ابن کثیر (رحمه الله) د همدغه تفسیر له لیکلو څخه وروسته فرمایي: «وهذا قول جمهور السلف وعلماء الخلف، والله أعلم».

﴿قُلۡنَا ٱحۡمِلۡ فِيهَا مِن كُلّٖ زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِ﴾ یعنې له هغو ساکښانو (زنده سرو) چې ضرورت ورته پښېږي، او د هغوی نسل پاتې کېدل مقدر دي، یوه یوه جوړه نر او ښځه دواړه واخله، او په ببړۍ کې یې سواره کړه !.

له ﴿وَلَا تُخَٰطِبۡنِي فِي ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْۖ إِنَّهُم مُّغۡرَقُونَ﴾ څخه مراد د نوح علیه السلام هغه ځوی مقصود دی، چې نوم یې (یام) او لقب یې کنعان وو، او بل د کنعان مور مقصوده ده، چې (واعله) نومیده، او د نوح علیه السلام له کورنۍ ځنې همدغه مور او ځوی دواړه ېبل او په طوفان کې ډوب شوي دي.

﴿وَمَآ ءَامَنَ مَعَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٞ﴾ یعنې اتیا نارینه یا څه لږ یا څه ډېر، د نوح علیه السلام د ببړۍ د اراکینو په نسبت ډېر اقوال دي، اما آخري دا دی، چې یو پخپله نوح علیه السلام وو، او یوه یې مسلمانه ښځه او درې یې ځامن: سام، حام، یافث او درې د دوی ښځې دا اته شو، او له قوم ځنې یې ۳۶ نارینه ۳۶ ښځې چې دا ټول سره اتیا تنه شول.

وَقَالَ ٱرۡكَبُواْ فِيهَا بِسۡمِ ٱللَّهِ مَجۡرَىٰهَا وَمُرۡسَىٰهَآۚ إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ٤١

او وویل نوح چې: سپاره (سواره) شئ پر دغې (ببړۍ کې، او وایئ) په نامه د الله دي روانېدل د دې (ببړۍ) او درېدل د دې (ببړۍ)، بېشکه چې رب ځما خامخا ښه بخښونکی مغفرت کوونکی (د خطیاتو)، ډېر رحم کوونکی دی.

تفسیر: نوح علیه السلام خپلو ملګرو ته وویل چې: د پاک الله په نامه پر ببړۍ سواره شئ ! او هیڅ فکر او اندېښنه مه کوئ، د دغې ببړۍ راونېدل او درېدل دواړه د الله په نامه او اذن او حکم، او د ده د پاک نامه په برکت سره دي، او د دې د ډوبېدلو هیڅ اندېښنه نشته، ځمونږ رب د مؤمنینو قصور معافوي، او پر دوی بې حده مهربان دی، دی به پخپل فضل

او کرم او مهربانی سره مونږ روغ رمټ او صحیح او سلامت راکوزوي، له دې آیت څخه دغه خبره استخراجیږي چې په کشتی او نورو نقلیه وو وسائلو باندې د سورېدلو په وخت کې ښایي چې «بسم الله» وویلی شي.

وَهِيَ تَجْرِي بِهِمْ فِي مَوْجٍ كَالْجِبَالِ ۖ وَنَادَىٰ نُوحٌ ابْنَهُ وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ يَا بُنَيَّ ارْكَب مَّعَنَا وَلَا تَكُن مَّعَ الْكَافِرِينَ ﴿٤٢﴾

او دې (بېړۍ) به وړل دوی په موجونو (چې د اوبو) کې په شان د غرونو، او نارې کړې نوح (له ډېره شفقته) ځوی خپل ته، حال دا چې وو هغه په کناره (له پلاره یا له بېړۍ نه): ای بچوړیه ځما ! راځه سور شه(په بېړۍ کې !) له مونږ سره، او مه کېږه له کافرانو سره (چې غرق به شي).

تفسیر: یعنې بېړۍ به د غرونو موجونه او چېې ځیرولې، او پخپل تکر سره به یې وهلې، او بې له خوفه او خطرې به پرې روانه وه، وروسته له سورېدلو نوح علیه السلام خپل ځوی (یام ـ کنعان) ته ورغږ کړ، کوم چې له خپله پلاره او وروڼو او نورې کورنۍ څخه بېل او له کفارو سره ایل او غیل (ملګری) وو چې: «د دغو بد بختانو کفارو ملګرتوب پرېږده، له مونږ سره راشه ! څو له دغه لوی مصیبت څخه نجات ومومندلی شې».

قَالَ سَآوِي إِلَىٰ جَبَلٍ يَعْصِمُنِي مِنَ الْمَاءِ ۚ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ إِلَّا مَن رَّحِمَ ۚ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِينَ ﴿٤٣﴾

وویل (کنعان ځوی د نوح چې) ژر به لاړ شم ځای به ونیسم پر سر د کوم غره باندې؛ چې وساتي مې له اوبو نه، وویل (نوح چې) نشته ساتونکی نن ورځ له امره (حکمه او له عذابه) د الله (هیڅوک) مګر (ساتلی به شي) هغه څوک چې رحم پرې وکړي (الله)، او پرده شو د دوی دواړو په منځ کې موج (چپه د اوبو) نو وګرځېد (کنعان) له جمله د غرق کړي شویو.

تفسیر: «کنعان» له خپل جهل او غباوته اوس هم داسې خیال کاوه، لکه چې سړی د عادي او معمولي سیلاب (ځپان) په وخت کې پر کومه لوړه (اوچته) خیژي، او خپل ځان ژغوري (بچ کوي)، نو زه به هم پر کومې لوړې وخیژم، او خپل ژوندون به وساتم.

﴿قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ﴾ الآیه ـ یعنې ته په کوم خبط او خطا کې لوېدلی یې، دغه عظیم طوفان خو کوم معمولي سیلاب نه، بلکه د الله تعالی د عذاب طوفان دی، د لوړو غرونو حقیقت او ماهیت څه دی، نن هیڅ یو شی د پاک الله له عذابه نجات نشي مومندلی، هو ! د همغه چا په برخه کې نجات کېدی شي، چې د پاک الله فضل او کرم پرې وي، مګر په دغه لویه او مهیبه هنګامه او انتقام په مقام کې به پر غټو مجرمانو څه رحم او شفقت کېدی شي؟ د پلار او ځوی په منځ کې لا د خبرو او اترو دغه سلسله پای (آخر) ته نه وه رسېدلې، چې د اوبو یوه لویه چپه ددوی تر منځ حائله شوه، او دوی دواړه یې د تل لپاره سره بېل کړل.

(بیا هر کله چې واقعه د طوفان نهایت ته ورسېده، او کفار غرق شول؛ نو د پاک الله داسې امر صادر شو).

وَقِيلَ يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَيَا سَمَاءُ أَقْلِعِي وَغِيضَ الْمَاءُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُودِيِّ ۖ وَقِيلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٤٤﴾

او وویل شو چې ای ځمکې جذب کړه (ببرته ښکته ونغړه) اوبه خپلې، او ای اسمانه بندې کړه (اوبه خپلې)، او کمې کړی شوې اوبه (له مخ د ځمکې) او پوره کړ شو هغه حکم (د اهلاک د

اشرارو او انجاء د ابرارو)، او ودرېده بېړۍ پر غره د جودي، او وويل شو (هلاک) لرېوالی دې وي (له رحمته) قوم ظالمانو (کافرانو) ته.

تفسير: تر يوه مدت پورې دومره زياتې اوبه له آسمانه راتويې شوې، چې ګواکې د آسمان ګرد (ټول) ورخونه او بندونه سره خلاص شوي دي، او د ځمکې ټولې پولې او پردې سره شليدلي او بېرته شوي وي، تر ونو او لوړو (اوچتو) او غرونو پورې هم اوبه وختلې، او هغه ټول په کې ډوب او پټ شول، بې د کشتۍ له سورو څخه نورو ټولو کفارو ته چې د دوی په حق کې نوح عليه السلام د ﴿لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا﴾ (۲۹ جزء د نوح د سورت ۲۶ آيت دويمه رکوع) ښېرا کړې وه، غرق شول، په دغه وخت کې الله قدوس جلّت عظمته ځمکې ته امر ورکړ، چې اوس دې خپلې اوبه بېرته درجذبې کړه، او درکش يې کړه !، او ای آسمانه نور بس کړه او مه ورېږه ! او ای ورېځو لرې شئ !، نو بيا څه مجال وو چې دغو ټولو د هغه حکم امتثال نه وی کړی، او په تعميل کې يې د يوې لمحې ډيل او معطلي کړي وی، لکه چې د اوبو وچېده شروع شول، او بېړۍ د (جودي) پر غره باندې ودرېده، چې د ځينو په نزد په (موصل) کې دی.

تنبيه: په دغې خبرې کې اختلاف دی، چې د نوح عليه السلام طوفان پر ټولې (ټولې) دنيا باندې ختلی وو؟ يا په خاصو ملکونو کې واقع شوی وو؟ د دې خبرې د فيصلې کولو ځای دلته نه دی، مګر په ياد ولرئ چې په «دائرة المعارف» کې د (اوروپا) د ځينو محققانو داسې اقوال او دلائل نقل شوي دي، چې له هغو څخه د عمومي طوفان د وقوع تأييد کيږي، هغه کسان چې د عمومي طوفان قائلان دي؛ له دوی څخه د اکثرو په نزد د موجوده عالم ټول انسانان د نوح عليه السلام د دريو ځامنو (۱) سام (۲) حام (۳) يافث، له اولادې څخه دي، ﴿وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ﴾.

وَنَادَىٰ نُوحٌ رَّبَّهُ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي وَإِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَأَنتَ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ ﴿۴۵﴾
قَالَ يَا نُوحُ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ ۖ إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ ۖ فَلَا تَسْأَلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ ۖ إِنِّي أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ ﴿۴۶﴾

او غږ (سوال) وکړ نوح رب خپل ته، نو ويې ويل: ای ربه ځما بېشکه چې ځوی ځما له اهله ځما څخه دی، او بېشکه چې وعده ستا حقه ده، او ته يې ښه عالم عادل لوی حاکم له ټولو حکم کوونکو څخه. وفرمايل (الله) ای نوحه ! بېشکه چې هغه ځوی نه دی له اهله ستا (چې مؤمنين دي)، بېشکه دی (خاوند د) عمل ناکاره دی، نو سوال مه کوه د هغه څيز چې نه وي تاته په هغه څيز کې څه علم، بېشکه زه پند درکوم تاته چې (نه) شې ته له جاهلانو (په دې ناجائز سوال سره).

تفسير: يعنې يا اله العالمينه ! تا خو ځما د کورنۍ د نجات وعده راسره کړې وه، او کنعان د مؤمن توب له امله د ﴿إِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ﴾ په استثناء کې ظاهراً نه وو داخل، نو بيا د هغه د مغروقيت راز به څه وي؟ بلا شبهه ستا وعده حقه ده، هيڅا ته له سره داسې کوم خيال نشي پيدا کېدی چې (معاذ الله) تا وعده خلافي کړې ده، ته ﴿أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ﴾ او مطلق شهنشاه يې، که څوک ستا د احکامو په راز وپوهيږي، او که ونه پوهيږي؛ په دواړو صورتونو کې هغه حق دي، او هيڅوک حق نه لري، چې ستا د فيصلې په مقابل کې دم ووهلی شي، يا تا په وعده خلافی مجبور کړي، نه د چا دا منصب دی چې ستا د ناطق حکم په متعلق څه تنقيد وکړی شي، فقط د قلبي اطمينان لپاره د استعلام او استفسار په ډول د دغې واقعې راز معلومول غواړم.

ځواب يې داسې واورېد، چې دی ستا له هغې کورنۍ څخه نه وو، چې د دوی د نجات وعده درسره شوې وه، بلکه په ﴿إِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ﴾ کې شامل دی، ځکه چې د هغه عمل خراب دی، ته د ده له کفر او شرک څخه خبر نه

يې، د هغه سړي واقعي احوال چې تاته نه وي معلوم؛ نو د هغه په باره کې له مونږه داسې نامناسبه رعايت، يا دا ډول کيفيت مه غواړه ! مقربينو ته وړ او لايق نه دي، چې بې له فکره او انديښنې، او وړاندې او وروسته کتلو، د جاهلانو په شان خبرې و کړې.

قَالَ رَبِّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْأَلَكَ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ ۖ وَإِلَّا تَغْفِرْ لِي وَتَرْحَمْنِي أَكُنْ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٤٧﴾

وويل (نوح) ای ربه ځما ! بېشکه زه پناه نيسم په تا پورې له دې چې سوال وکړم له تانه د هغه ځيز چې نشته ماته په هغه ځيز علم پوهه، او که مغفرت ونه کړې ته ماته او رحم ونه کړې پر ما؛ نو شم به زه له زيانکارانو.

تفسير: شاه صاحب ليکي: «انسان د همغې خبرې پوښتنه کوي، چې ورته نه ده معلومه، ليکن ښايي چې د مسئول منه مرضي ځان ته معلومه کړي، دا ښه کار نه دی، چې د لوی مرضي ته نه ګوري، او ترې پوښتنه کوي»، مرضي يې ولې نه وه، هغه مو اوس وليکل، نوح عليه السلام د کبرياء په لوی دربار کې عرض وکړ، چې ای ربه ځما ! بېشکه زه پناه نيسم په تا پورې، چې سوال وکړم له تانه د هغه ځيز چې نشته ماته په هغه کې پوهه او علم، او که مغفرت ونه کړې ته ماته او رحم ونه کړې پر ما؛ نو شم به زه له زيانکارانو، يعنې نوح عليه السلام سخت ووېرېده او ډېر ورېږدېده (ورېبده)، او ژر يې توبه وويسته.

قِيلَ يَا نُوحُ اهْبِطْ بِسَلَامٍ مِنَّا وَبَرَكَاتٍ عَلَيْكَ وَعَلَىٰ أُمَمٍ مِمَّنْ مَعَكَ ۚ وَأُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٤٨﴾

وويل شو: ای نوحه ! کوز شه (له دې بېړۍ) سره له سلامتۍ له جانبه ځمونږ، او سره له برکتونو (ځمونږ له جانبه) پر تا او پر څو فرقو له هغه چا نه چې له تا سره دي، او څه نورې فرقې (کافرې له اولادې د هغه چا چې له تا سره دي) ژر به نفع ورکړو هغوی ته (په دې دنيا کې) بيا به ورسيږي دوی ته ځمونږ له جانبه عذاب دردناک. (په آخرت کې په سبب د کفر).

تفسير: يعنې له بېړۍ څخه په «جودي» باندې بيا له «جودي» څخه پر ځمکه ښکته شول، برکات او سلامتي وروسته له دې نه پر تاسې او پر هغو اقوامو به وي؛ چې ستاسې له ملګرو څخه پيدا کيږي، اوس چې ځمکه د طوفان له سببه بيخي خرابه او ويجاړه شوې ده، الله تعالى به يې بيا ودانوي، او د هغه رونق سينګار ته به بيا عودت ورکوي، د ﴿بِسَلَامٍ﴾ په لفظ کې ګواکې حق تعالى تسلي فرمايلې ده چې بيا پر ګردو انساني نوعو پخوا له قيامت داسې عمومي هلاکت نه دی راتلونکی، مګر ځينې فرقې به هلاکيږي.

تِلْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهَا إِلَيْكَ ۖ مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَا أَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هَٰذَا ۛ فَاصْبِرْ ۖ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٤٩﴾

دغه (قصه د نوح) له ځينو اخبارونو د غيب ده، چې راليږو هغه (اخبار) تاته (ای محمده ! په وحي سره)، نه وې ته چې پوهېدی په دې قصې ته او نه قوم ستا پخوا له دې (اخباره ځمونږ)، نو صبر کوه (په ايذاء او تبليغ ته دې دوام ورکړه)، بېشکه چې عاقبت (ښه خاتمه) لپاره د پرهېزګارانو ده.

تفسير: يعنې دغه د نبوّت له دلائلو څخه دي، چې د يوه امي له ژبې څخه د سابقه وو اممو داسې مستند او مفصل واقعات درآوروي، همغسې چې د نوح عليه السلام او د ده د ملګرو خاتمه ښه شوه، ستاسې د ملګرو مستقبل هم ډېر روښ او له

بري او کاميابي څخه ډک دی، تاسې د کفارو پر ايذاوو صبر و کړئ، مه ويريږئ او مه خفه کيږئ لکه چې نوح عليه السلام نهه نيم سوه کاله صبر و کړ.

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا مُفْتَرُونَ ﴿٥٠﴾
يَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى الَّذِي فَطَرَنِي ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٥١﴾

او ليږلی وو مونږ قوم د عاد ته (قومي) ورور د دوی هود، وويل (هود): ای قومه ځما ! عبادت کوئ (يواځې) د الله (ځکه چې) نشته تاسې ته هيڅ بر حق معبود غير له الله نه، نه يئ تاسې مګر دروغ ترونکي (پر الله پورې په دعوی د شرک کې). ای قومه ځما ! نه غواړم له تاسې پر دې تبليغ د رسالت څه اجر (مزدوري)، نه دی اجر ځما مګر پر هغه الله چې پيدا کړی يې يم زه، آيا نو عقل نه کوئ تاسې (چې حق له باطل او ربښتين له دروغجن څخه ښل کړئ؟ !).

وَيَا قَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمْ
وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِينَ ﴿٥٢﴾

او ای قومه ځما ! مغفرت وغواړئ (له شرکه) له رب خپل، بيا رجوع وکړئ په طرف د دغه (الله په طاعت سره) چې وبه ليږي (الله له جانبه د) آسمان پر تاسې (باران) اوريدونکی (په شيبو شيبو)، او درزيات به کړي الله تاسې ته قوت پر قوت ستاسې، او مخ مه ګرځوئ تاسې حال دا چې ګناهګاران اوسيږئ.

تفسير: د دغې جملې تفسير د دغه سورت په ۳ آيت اوله رکوع يعنې په شروع کې تېر شوی دی، يعنې موقع په موقع ښه بارانونه اوروي، څرنګه چې دغه قوم له کښتونو (فصلونو) او باغونو او نورو شيونو سره ډېره مينه او علاقه درلوده؛ نو ځکه د ايمان راوړلو همغسې فوائد او برکات يې بيان فرمايلي دي، چې د دوی په حق کې په خصوصي ډول سره د تشويق او ترغيب موجب شي.

مفسرين ليکي چې: «دغه خلق له دريو کالو د وچکالی (سوکړې) او د باران د امساک په مصيبت اخته وو، هود عليه السلام وعده وکړه، که تاسې ايمان راوړئ، او د پاک الله دربار ته رجوع وکړئ؛ نو دغه مصيبت به له تاسې څخه لرې کيږي، او په راز راز نعمت، بخششونو او راحت به مخامخ کيږئ.

قَالُوا يَا هُودُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِي آلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ ﴿٥٣﴾

وويل دوی: ای هوده ! نه دی راوړی تا مونږ ته دليل ظاهر، او نه يو مونږ پرېښودونکي د (عبادت د) معبودانو خپلو په سبب د وينا ستا، او نه يو مونږ پر تا باندې ايمان راوړونکي.

تفسير: يعنې دغه خو ښکاره ضد، عناد او سرکشي ده، چې دوی ويل، چې تاسې کوم واضح سند او دليل د خپل صداقت په نسبت نه دی راوړی، هر هغه نبي چې د پاک الله له جانبه د نبوّت پر عهده فائز کيږي؛ نو ضرور دي چې د دغه تقرير لپاره کوم سند او اعتمادنامه ورته عطا کړي، لکه چې په حديث کې دي: «د هر نبي الله سره چې مبعوث شوی دی؛ داسې واضحه نښه هم لږلې شوې ده، چې که انسان پرې ايمان راوړي؛ راوړی يې شي»، نو ځکه يقيناً ويلی شي چې هود عليه السلام به هم هغه خپله نښانه وړاندې کړي وي، مګر دغو خلقو به د ضد، عناد، سروزوری او بې حيايی لامله هغه نه وي منلې.

إِن نَّقُولُ إِلَّا اعْتَرَاكَ بَعْضُ آلِهَتِنَا بِسُوءٍ ۗ قَالَ إِنِّي أُشْهِدُ اللَّهَ وَاشْهَدُوا أَنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴿٥٤﴾ مِن دُونِهِ
فَكِيدُونِي جَمِيعًا ثُمَّ لَا تُنظِرُونِ ﴿٥٥﴾ إِنِّي تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُم ۚ مَّا مِن دَابَّةٍ إِلَّا هُوَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا ۚ
إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٦﴾

نه وايو مونږ (ستا په حق کې) مګر چې رسولی دی تاته ځينو معبودانو ځمونږ څه ضرر (لهونتوب)، نو وويل هود: بېشکه زه شاهد کوم الله، او شاهدان شئ تاسې (هم) چې بېشکه زه بېزار يم له هغو چې شريکوئ يې (له الله سره). غير له الله نه، نو حيلې جوړې کړئ تاسې (هلاک) ځما ته ټول، بيا نو مهلت مه راکوئ ماته. بېشکه ما توکل کړی دی پر (هغه) الله چې رب ځما او رب ستاسې دی، نشته هيڅ تلونکی (ذي روح خوځېدونکی په ځمکه کې) مګر همدغه (الله) دی، نيوونکی له وچولي (تندي) د ده، بېشکه رب ځما په لاره سمه برابره (حق او عدل) دی (يا په حقې لارې سړی برابروي).

تفسير: يعني هغوی وويل: دغه چتې (بېکاره) خبرې چې ته يې کوې، او ګرد جهان بې وقوفه او ناپوهه بولې، او له خپله ځانه سره يې دښمنان کوې، ځمونږ خيال دا دی چې ځمونږ له معبودانو به کوم يوه څه رنځ يا ربړ (تکليف) درپېښ کړی وي، او له تا څخه يې لهونی، پاګل او مجنون جوړ کړی دی (العياذ بالله) ته چې د لهونيانو په شان خبرې کوې، او د هغوی له عبادت څخه مو منع کوئ او هغوی ته بدې او ردې خبرې کوې؛ نو هغوی تاته د دغو بې ادبو او سپين سترګيو او ګستاخيو په بدل کې سزا درکړې ده، چې اوس بيخي د لهونيانو په شان خبرې او اترې کوې.

نو هود عليه السلام د دغو مشرکانو په ځواب کې يوه خورا مؤثره تردیديه وينا وکړه، چې لنډه يې دا ده: هغه بېچارګان د تيرو (ګټو) او نورو شيانو بتان ماته څه ربړ او تکليف رارسولی شي، تاسې چې له ګردو څخه زورور، قوي، او طاقتور په نظر راځئ، که د خپلو معبودانو له فوجونو سره يو ځای پر ما يواځې يو سړي په پوره قوت، او قدرت ټول سره په يوه وخت کې ناڅاپه حمله او يرغل راوړئ؛ نو يقين وکړئ چې ځما يوه ويښته ته به هم څه نقصان او زيان ونشئ رسولی.

ځما اعتماد پر همغه (وحده لا شريک له الله) دی، چې ځما رب دی، او هغه هم ستاسې رب او حاکم دی، اګر که تاسې له بدفهمۍ څخه نشئ پوهېدی؛ چې نه يواځې زه او تاسې بلکه هر وړوکی او لوی شی چې په ځمکه کې ګرځي، او خوځيږي او شته، سره له آسمانونو او هغو شيانو چې په دوی کې دي او شته، ګرد د پاک الله په قبضه او تصرف کې دي.

نه ظالم او کاذب د ده له نيولو څخه خلاصېدی شي، او نه عادل صادق چې د ده په پناه کې اوسيږي رسوا کيږي، بلا شبهه ځما پروردګار د عدل او انصاف په سمه لاره دی، او د ده له لوري نه ظلم کيږي، او نه چا ته بې موقع انعام او اکرام ورکوي، خپلو بندګانو ته يې د نېکۍ او خير کومه لاره چې ښوولې ده؛ بېشکه پر هغې باندې له تلو څخه د الله تعالى په حضور رسيږي، او د دغې لارې د تلونکي د حفاظت لپاره دی هر وخت حاضر دی.

فَإِن تَوَلَّوْا فَقَدْ أَبْلَغْتُكُم مَّا أُرْسِلْتُ بِهِ إِلَيْكُمْ ۚ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّي قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۖ وَلَا تَضُرُّونَهُ شَيْئًا ۚ إِنَّ رَبِّي
عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ ﴿٥٧﴾

نو که مخ واړوئ تاسې (له ايمانه او کلک اوسئ په عصيان)؛ نو په تحقيق رسولی دی ما تاسې ته هغه پيغام چې رالېږلی شوی وم هغه سره تاسې ته (چې توحيد دی، نو هلاک به مو کړي الله) او

خليفه به وګرځوي رب ځما (رابه ولي ستاسې په ځای) يو قوم غير له تاسې، او ضرر به ونه رسوئ تاسې الله ته د هيڅ څيز، بېشکه رب ځما پر هر څيز (د اعمالو ستاسې او نورو) ښه ساتونکی دی.

تفسير: يعنې سره له داسې صافې او ښکاره خبرې د آورېدلو که بيا هم د الله تعالی وحدانيت او ځما رسالت نه منئ؛ نو ماته هيڅ يو ضرر او نقصان نشئ رسولی، ځکه چې ما خپل د تبليغ فرض پوره کړی دی، اوس نو تاسې د خپل ځان فکر وکړئ، ضرور دی چې د داسې عناد، ضد، او سرتمبګی (سرکشی) او تعصب په مقابل کې له آسمانه پر تاسې عذاب نازل شي، او تاسې ګرد سره هلاک کړي.

وَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُودًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَنَجَّيْنَاهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٨﴾

او کله چې راغی امر (حکم د عذاب) ځمونږ؛ نجات مو ورکړ هود ته او هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی وو له ده سره (له هغه عذابه) په رحمت سره له نزده خپله (نه په عمل د دوی)، او نجات مو ورکړ او وساتل مونږ دوی له عذاب سخته.

تفسير: يعنې اوه شپې او اته ورځې مسلسل سخته سيلۍ چلېده، لکه چې د «اعراف» په سورت کې مو ليکلي دي، کورونه يې ګرد سره ونړېدل، سقفونه (چتونه) پشتونه يې ټول والوتل، ونې له بېخه ووتلې، او ډبرې لرې لرې سره ولوېدلې، باد همداسې زهرناک او مسموم وو، چې د ساکنانو (جاندارو) په پوزه کې به داخلېده، او د لاندنې مخرجه د باندې ووت، او جسمونه به يې ټوټې ټوټې کول، له دغه هولناک عذابه مونږ هود عليه السلام او د ده ملګري چې په آخره کې تر څلورو زرو پورې رسېدلي وو؛ بيخي محفوظ وساتل، او د صالح عمل او د ايمان په برکت د آخرت له درانه عذابه مو هم هغوی وساتل، او نجات مو ور په برخه کړ.

وَتِلْكَ عَادٌ جَحَدُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا رُسُلَهُ وَاتَّبَعُوا أَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٥٩﴾

او دغه عاديان دي، چې منکران شوي وو په آيتونو د رب خپل، او نافرماني کړې وه دوی له رسولانو د دغه (الله) او تابع شوي وو دوی د امر (حکم) د هر سرکښه عناد والا.

تفسير: يعنې د دوی ورانو مېنو او کنډوالو ته د عبرت په سترګو وګوره ! چې د هغو عاديانو د هستوګنې ځای دی، چې د دوی مشرانو په ډېر زور او شور له پاک الله سره مقابله کړې وه، او د ده د نبي عليه السلام له احکامو څخه يې سرونه غړولي وو، او د هغو کشرانو د دغو لويو شيطانانو متابعت وکړ، چې بالآخر دواړه تباه او برباد شول.

تنبيه: «رسله» ځکه وفرمايل، چې د يوه رسول تکذيب د ګردو رسولانو تکذيب دی، ځکه چې دوی ګرد په توحيد او نورو ديني اصولو کې سره متفق او يو د بل مصدق دي.

وَأُتْبِعُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ أَلَا إِنَّ عَادًا كَفَرُوا رَبَّهُمْ ۗ أَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُودٍ ﴿٦٠﴾

او ولېږلی شو (په دوی پسې) په دغې دنيا کې لعنت (چې هلاک کړ شول په سخت باد)، او په ورځ د قيامت کې (هم په اور کې سوځي)، خبردار شئ چې بېشکه عاديان کافران شوي وو په رب خپل، بيا واورئ خبردار شئ چې لرې والی دی (له رحمته د الله نه) عاد قوم د هود ته.

تفسير: يعنې د الله تعالی لعنت په دنيا کې په دوی پسې ګرځي، هر چېرې چې لاړ شي؛ هغه هم ورسره ځي، او تر قيامته پورې هر چېرې چې د هغوی ذکر وي، لعنت به هم ورسره وي، بلکه له قيامته وروسته هم هغه لعنت له دوی ځنې نه جلا کيږي، او د لعنت غاړکی به تل د دوی په غاړو کې لوېدلې وي.

ځینو مفسرینو ویلي دي: چې د قیامت په ورځ کې به داسې غږ کیږي: ﴿أَلَا إِنَّ عَادًا كَفَرُوا﴾ الآیه ـ

تنبیه: له «عاد» سره د «قوم هود» لفظ یا خو د دې لامله وراضافه شوی دی، چې د دواړو تصور په یو ځای د اوربدونکو په دماغ کې راشي، یعنې د هود څه حال وو، او دا هم دهمغه قوم وو، چې حشر یې داسې شو.

او ممکن دی چې پر دې یې تنبیه ورکړي وي چې عاد دوه دي، یو اولَی او بل أُخرَی، نو ځکه یې په بل ځای کې فرمایلي دي: ﴿وَأَنَّهُ أَهْلَكَ عَادًا الْأُولَىٰ﴾ (۲۷ جزء د النجم سورت ۵۰ آیت ۳ رکوع)، دلته عاد اولَی مراد دي، چې د هغوی لپاره هود علیه السلام مبعوث شوی وو، او د هغو قصه د «الأعراف» سورت په ۹ رکوع ۸ جزء کې تېره شوې ده، والله أعلم.

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَاسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ ۚ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُجِيبٌ ﴿٦١﴾

او (لېږلی وو مونږ) ثمودیانو ته (قومي) ورور د دوی صالح، ویې ویل: ای قومه ځما ! عبادت کوئ (یواځې) د الله، نشته تاسې ته هیڅ بر حق معبود غیر له ده، همدغه (الله) پیدا کړي یئ تاسې له ځمکې (چې آدم یا ماده د نطفې ده) او اوږده عمرونه یې درکړي دي تاسې ته په دغې (ځمکې) کې؛ نو مغفرت وغواړئ له ده ځخه (او په وحدانیت یې ومنئ)، بیا رجوع وکړئ ده ته (له عبادتونو د نورو)، بېشکه رب ځما ډېر نژدې دی (په رحمت او په فضل خپل سره) ښه قبلوونکی د دعا دی.

تفسیر: د دوی قصه هم په ۸ جزء د «الأعراف» په لسمه رکوع کې تېره شوې ده، یعنې رومبی یې آدم له خاورې ځخه پیدا کړ، بیا یې له ځمکې ځخه اغذیه پیدا کړه، چې له هغو ځخه نطفه او نور پیدا کیږي، او د انسان د پیدا کېدلو ماده ده.

قَالُوا يَا صَالِحُ قَدْ كُنْتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَٰذَا ۖ أَتَنْهَانَا أَنْ نَعْبُدَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا ۖ وَإِنَّنَا لَفِي شَكٍّ مِمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٦٢﴾

وویل ثمودیانو: ای صالحه ! په تحقیق وې ته په مونږ کې امید کړی شوی پخوا له دې، آیا ته مو منع کوې له دې چې عبادت وکړو د هغو بتانو چې عبادت به یې کاوه پلرونو ځمونږ، او بېشکه مونږ خامخا په شک کې لوېدلي یو له هغه توحیده چې ته بولې مونږ هغه ته، داسې شک چې واقع کوونکی دی د زړونو په اضطراب کې.

تفسیر: یعنې له تا ځخه ځمونږ هیله او امید داسې کېده، چې ته به په راتلونکې زمانې کې داسې لوی فاضل او ښه سړی کېږې، چې د معززو او مشرانو په ځای به ورسېږې، او د ملک او د قوم به د سترګو تور وګرځې، د تا له وچولي (تندي) ځخه رشد او صلاح آثار ښکارېدل، او د ګردو توقع داسې کېده چې په قریب مستقبل کې به لویه فائده له تا ځنې نورو ته راورسیږي، په تدبیر، صلاح او مشورې د خپلو ورونو په لار ښوونه به بوخت (مشغول) کېږې، او د زړه په قوت سره د خپل پلارني مذهب په حمایت او تایید کې به کوشش کوې ! په رښتیا سره چې ابتداء تاته بت پرستي مبغوضه وه، او عمومي مذهب ځخه ببل او جلا ګرځېدې، خو بیا هم مونږ ستاسې په فطري قابلیت او طبعي پوهې اعتماد درلود، او هیله (امید) مو کوله چې وروسته د عقل د پوخوالي او د تجربې د زیاتوالي به ته دا خپله رویه پرېږدې، لیکن د افسوس ځای دی، چې تا یو په یو په داسې خبرو باندې شروع وکړه، چې د هغو په آوربدلو سره ځمونږ پر هغه ګردو هیلو او

امیدونو د مایوسی اوبه توی شوې، ځمونږ په نزد د پخوانیو مشرانو په خلاف د داسې مسلک اختیارول سخت شبهه ناک څیز دی، چې ځمونږ زړونه یې له سره نه مني.

قَالَ يٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي مِنْهُ رَحْمَةً فَمَن يَنصُرُنِي مِنَ اللَّهِ إِنْ عَصَيْتُهُۥ ۖ فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيْرَ تَخْسِيرٍ ﴿٦٣﴾

وویل (صالح) ای قومه ځما ! آیا وینئ تاسې، یعنې خبر راکړئ ماته که یم زه په (برهان) ښکاره له جانبه د رب خپل، او راکړی یې وي ماته له نزده خپله رحمت (نبوت)؛ نو څوک به مدد وکړي له ما سره (او خلاص به مې کړي) له عذابه د الله که نافرماني وکړم زه له ده نه، نو نه به زیاتوئ ماته غیر له نقصانه.

تفسیر: یعنې ستاسې د شک او د شبهې لامله زه یوه داسې صافه او سمه لاره څرنګه پرېښودی شم؟ !، پاک الله ماته عقل او پوهه راکړې ده، او پخپل عظیم رحمت سره یې د نبوت منصب را عطا کړی دی، اوس نو فرض کړئ؛ که زه د پاک الله له احکامو څخه سر وغړوم، او د هغو شیانو په تبلیغ او اعلام کې چې زه یې په رسولو سره مامور شوی یم؛ سستي وکړم، او ویې نه رسوم؛ نو ما به د هغه له سزا او پوښتنې څخه څوک وژغوري (بچ کړي)؟ که زه نافرماني وکړم له الله نه په نه رسولو د احکامو د ده کې.

او عجب دا چې زه بولم تاسې الله تعالی ته، او تاسې مې بولئ بتانو ته؛ نو نه زیاتوئ تاسې ماته غیر له نقصانه، یعنې د دې په ځای چې تاسې د خپل صادق خیر غوښتونکي او محسن قدر و پېژنئ، ماته داسې مشورې راکوئ، چې د خپل تبلیغ له فرائضو او د اسلامي دعوت له چارو ځنې لاس واخلم، او له دې پلوه ما ته داسې لوی زیان رارسوئ چې تلافي یې له سره نه کیږي.

وَيٰقَوْمِ هٰذِهِۦ نَاقَةُ اللَّهِ لَكُمْ ءَايَةً ۖ فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِي أَرْضِ اللَّهِ ۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيبٌ ﴿٦٤﴾ فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوا۟ فِي دَارِكُمْ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ ۖ ذٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ ﴿٦٥﴾

او ای قومه ځما ! دا اوښه د الله ده (چې پیدا کړې یې ده) تاسې ته معجزه، نو پرېږدئ دا چې خوري (څري) په ځمکه د الله کې، او لاس مه وروړئ دې ته په بدی (او که مو بدي ورته اختیار کړه)؛ نو وبه نیسي تاسې عذاب نژدې (یعنې متصل په آزارولو د دې پسې). پس زخمي او مړه یې کړه هغه (اوښه)؛ نو وویل صالح: فائده واخلئ تاسې په کورونو خپلو کې درې ورځې، دا (راتګ د عذاب په څلورمې ورځې کې) داسې وعده ده، چې هیڅ دروغ په کې نشته.

تفسیر: له صالح علیه السلام څخه د ده قوم معجزه غوښتې وه، چې ده هغه وروښوده، د دې واقعې پوره تفصیل او د الفاظو تشریح د «الأعراف» په سورت د اتمې سپارې په خاتمه کې لیکلی شوی دی، هلته دې بیا وکتلی شي (۷۷ آیت (۱۰) رکوع).

فَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا صَٰلِحًا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ ۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلْقَوِىُّ ٱلْعَزِيزُ ﴿٦٦﴾

بیا کله چې راغی امر (حکم عذاب) ځمونږ؛ نو نجات ورکړ مونږ صالح ته او هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی وو له ده سره په رحمت (او فضل) سره له نزده خپله (نه په عمل د دوی)،

او له رسوايي د دغې ورځې (يا د قيامت)، بېشکه رب ستا همدی دی قوي، ښه غالب (په انفاذ د احکامو او اهلاک د کافرانو).

تفسير: کله چې د عذاب حکم ورسېد؛ نو مونږ صالح عليه السلام ته نجات ورکړ، او له څه شي څخه مو نجات ورکړ؟ د هغې ورځې له رسوايي څخه، ﴿وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ﴾ د ﴿نَجَّيْنَا﴾ شرح او تفصيل دی، يعنې د هر چا په نسبت چې اراده وفرمايي هلاکوي يې، او د هر چا په نسبت چې اراده وفرمايي ساتي يې.

وَأَخَذَ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دِيَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿٦٧﴾ كَأَنْ لَمْ يَغْنَوْا فِيهَا ۗ أَلَا إِنَّ ثَمُودَ كَفَرُوا رَبَّهُمْ ۗ أَلَا بُعْدًا لِّثَمُودَ ﴿٦٨﴾

او ونيول هغو کسانو لره چې ظلم يې کړی وو پر ځانونو خپلو (په کفر سره) چغې (هيبتناکې د جبرئيل) بيا ګهيځ (سحر) وګرځېدل دوی په کورونو خپلو کې مړه وچ کلک پر ځنګونو پرمخې پراته. لکه چې نه وو اوسيدلي دوی په دې کورونو کې (له سره)، واورئ ! خبردار شئ ! چې بېشکه ثموديان کافران شوي وو په رب خپل، واورئ خبردار شئ، لرې والی دی له رحمته ثموديانو ته.

تفسير: يعنې بې نامه او بې نښانه شول، شاه صاحب ليکي: «پر دوی داسې عذاب راغی چې دوی د شپې ويده وو، چې پرښتې سخته چغه وکړه، چې د دوی اينې ځيګرونه وچاودل، په ځينو آيتونو کې د «رجفة» لفظ راغلی دی، يعنې په زلزلې او رېږدېدنې (ريېدنې) سره ووژلی شول، په اتم جزء د الأعراف د سورت په ۷۸ آيت کې (۱۰) رکوع کې مونږ د دې په متعلق د تطبيق صورت ليکلی دی.

وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَىٰ قَالُوا سَلَامًا ۖ قَالَ سَلَامٌ فَمَا لَبِثَ أَنْ جَاءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ ﴿٦٩﴾

او هرومرو (خامخا) په تحقيق راغلي وو رسولان ځمونږ (ملائک) ابراهيم ته په زيري (د ځوی او اهلاک د قوم د لوط)، نو وويل (ملائکو): سلام (آچوو پر تاسې په سلام آچولو سره)، وويل (ابراهيم): سلام (دې وي پر تاسې)، نو ځنډ يې ونه کړ چې رايې وړ (دوی ته) خسي وريت کړی شوی.

تفسير: «لوط» عليه السلام د ابراهيم عليه السلام د ترور ځوی وو، چې د ده په ملګرتوب يې له عراقه هجرت کړی وو، د پرښتو يوه ډله هم دغو دواړو ته ورلېږلې شوې وه، هغه بحث چې ابراهيم عليه السلام د لوط عليه السلام د قوم د هلاکت په مسئلې کې کړی دي، له دې نه وروسته راځي، دغو پرښتو د پيمخو او ښايستوو حسينو او جميلو هلکانو په شکل د لوط عليه السلام په لوري د تللو په وخت کې ابراهيم عليه السلام ته زېری او بشارت ورکړ، چې پاک جليل دی خپل دوست او خليل ګرځولی دی، او په دغه زوړتوب کې د بي بي سارې له ګېډې څخه هلک ورعطا کوونکی دی، او همدغه چې د لوط عليه السلام د قوم د شريرانو او ظالمانو له وجوده عنقريب به دغه دنيا پاکه کړه شي، چې د دوی په منځ کې د ابراهيم او لوط عليهما السلام متبعينو ته هيڅ قسم زيان او ضرر نه ورورسېږي، پرښتو ابراهيم عليه السلام ته سلام واچاوه، او ده د هغو د سلام ځواب په سلام سره ورکړ، مګر په اوله شېبه (لحظه) کې ابراهيم عليه السلام دوی ونشو پېژندلی، لکه چې په ابتدايي حالت کې لوط عليه السلام هم دوی نه وو پېژندلي، ابراهيم عليه السلام پر دوی د انسانانو خيال وکړ، او د دوی د مېلمستيا سررشته (انتظام) يې هم وفرمايله، او يو ښه څربه او چاق خسی يې ورته حلال کړ، او وريته کړې غوښه يې ورحاضره کړه.

فَلَمَّا رَأَىٰٓ أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۖ قَالُوا لَا تَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٠﴾

نو کله چې ولیده (ابراهیم) لاسونه د دوی چې نه رسیږي دغې (وریتې غوښې) ته، نو نااشنا یې وګڼل دوی، او په زړه کې یې راوسته له دوی نه وېره، وویل (ملائکو) چې: مه وېرېږه بېشکه چې مونږ لېږلی شوي یو قوم د لوط ته (چې هلاک یې کړو).

تفسیر: د هغې زمانې له دود، (رواج) دستور سره موافق هغه مېلمه چې د خوراک د خوړلو څخه یې انکار کاوه، داسې ښکارېده چې ګواکې هغه د کوم ښه قصد لپاره نه دی راغلی، ابراهیم علیه السلام ووېرېده چې که دوی انسانان دي، نو له خوراک څخه د دوی انکار هرومرو کومه معنی او مقصد لري، او که ملائکې دي؛ نو نه دي رامعلوم چې د څه مطلب لپاره رالېږلي شوي دي؟ آیا له ما څنې کومه غلطي صادره شوې ده؟ یا ځما د قوم لپاره یې کوم نامناسب شی راوړی دی؟ په دغو چرتونو او اندېښنو کې ده پخپلې ژبې داسې اظهار هم وفرمایه: ﴿إِنَّا مِنكُمْ وَجِلُونَ﴾ (۱۴ جزء د الحجر سورت (۵۲) آیت (۴) رکوع)، یعنې مونږ له تاسې څنې په اندېښنه کې لویدلي یو، عموماً مفسرینو د ابراهیم علیه السلام د خوف هم دغه توجیهات کړي دي.

وَامْرَأَتُهُۥ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنَٰهَا بِإِسْحَٰقَ وَمِن وَرَآءِ إِسْحَٰقَ يَعْقُوبَ ﴿٧١﴾

او ښځه د دغه (ابراهیم ساره) ولاړه وه، نو ویې خندل (په زوال د خوف یا هلاک د کفارو) نو زېرې ورکړ مونږ هغې ته (په ژبې د ملائکو) په (تولد د) اسحاق، او بیا پس له اسحاق په (تولد د لمسي د ده) یعقوب.

تفسیر: بي بي ساره رضي الله تعالی عنها چې د مېلمنو د خدمت کولو، یا د بل کوم کار لپاره هلته ګوښې (بېله) ولاړه وه، د دې وېرې د لرې کېدلو لامله خوشاله شوه او ویې خندل، الله تعالی پر دغې خوښۍ نورې خوشالۍ هم د پرښتو په ژبه ور واورولې، چې ته به هم دغه عمر کې د اسحاق علیه السلام په شان یو ځوی مومي، او د ده له نسله یعقوب علیه السلام غوندې یو لمسی به هم درعطا شي، چې له هغه څخه یو زورور او لوی قوم (بني اسرائیل) پیدا کیدونکي دي، دغه زیرې بي بي ساره ته ځکه واوراوه شو؛ چې د ابراهیم علیه السلام یو بل ځوی اسماعیل علیه السلام د بي بي هاجرې له ګېډې لا له پخوا موجود وو، د بي بي ساره همدغه تمنّا وه که چېرې زه هم د ځوی مور شمه، مګر د زوړتوب له سببه بیخي بې هیلې (ناامیده) او مایوسه شوې وه، نو دغه ده چې په دې مهال (وخت) کې یې داسې زېرې واورېد، ځینې علماوو د بي بي ساره د خندلو نور توجیهات هم کړي دي، مګر ظاهر خو همغه ده چې مونږ د هغه بیان پاس وکړ.

قَالَتْ يَٰوَيْلَتَىٰٓ ءَأَلِدُ وَأَنَا۠ عَجُوزٌ وَهَٰذَا بَعْلِى شَيْخًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عَجِيبٌ ﴿٧٢﴾

نو وویل (ساره) ای تعجّب ځما! آیا ځېږومه زه (ولد) حال دا چې زه زړه یم، او دغه (ابراهیم) مېړه (خاوند) ځما دی زوړ، بېشکه چې دغه (تولد له دوو زړو) یو شی دی ډېر عجیب (عادتاً نه قدرتاً).

تفسیر: دلته ﴿يَٰوَيْلَتَىٰٓ﴾ داسې یو لفظ دی، لکه چې ځمونږ په محاورو کې ښځې د حیرت او استعجاب په مواردو کې «ویش» وایي، یعنې دا ډېر د حیرانۍ او تعجب ځای دی؛ چې زه په دغه زړوتیا کې وړوکی وځېږوم، وایي چې د بي بي ساري رضي الله تعالی عنها عمر په دغه وخت کې د (۹۹) کلونو، او د ابراهیم علیه السلام عمر سل کاله یا له سلو کلونو څنې هم متجاوز وو.

قَالُوْٓا اَتَعْجَبِيْنَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ رَحْمَتُ اللّٰهِ وَبَرَكٰتُهٗ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ ۭ اِنَّهٗ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ۝

وويل دغو (ملائکو) آيا تعجب کوئ له امره (حکمه) د الله؟ رحمت د الله دې وي، او برکتونه د ده دې وي پر تاسې اى خاوندانو د کورونو، بېشکه چې الله ښه ستايلى شوى ښه لويي والا دى.

تفسير: يعنې پر هغې کورنى باندې چې پاک الله دومره رحمتونه او برکات ورنازل کړي وي، او تل يې دوى د معجزاتو او خوارقو د ليدلو مورد ګرځولي وي، آيا دغه خبره هغوى لره د تعجب وړ (مستحق) او لايق کېدى شي؟ .

فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ الرَّوْعُ وَجَاۗءَتْهُ الْبُشْرٰى يُجَادِلُنَا فِيْ قَوْمِ لُوْطٍ ۝ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَحَلِيْمٌ اَوَّاهٌ مُّنِيْبٌ ۝ يٰٓاِبْرٰهِيْمُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ۚ اِنَّهٗ قَدْ جَاۗءَ اَمْرُ رَبِّكَ ۚ وَاِنَّهُمْ اٰتِيْهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُوْدٍ ۝

نو کله چې لاړه له ابراهيم څخه وېره او راغى ده ته زېرى (د ځوى او اهلاک د قوم د لوط)؛ نو بيا يې جګړه کوله ځمونږ سره په (حق) د قوم د لوط کې. بېشکه ابراهيم خامخا تحمل والا آه کوونکى لوى نرم زړه لرونکى رجوع کوونکى وو (الله ته). اى ابرهيم ! واوړه له دې جګړې څخه، بېشکه شان دا دى په تحقيق راغلى دى امر حکم د رب ستا (په اهلاک د قوم د لوط)، او بېشکه دوى راتلونکى دى دوى ته عذاب چې نشي بېرته ګرځولى (له دوى نه په هيڅ شان).

تفسير: يعنې څه مهال (وخت) چې له دې لورې مطمئن شو؛ نو فوراً د لوط عليه السلام د قوم په مسئله کې له پرښتو سره يې بحث شروع کړ، چې د هغه خلاصه د عنکبوت په سورت کې بيان فرمايلې ده؛ چې پرښتو ابراهيم عليه السلام مطلع کړ، چې مونږ د دغو کليو د اهلاک لپاره راغلي يو، ابراهيم عليه السلام وويل: چې په هغه کې خو پخپله لوط عليه السلام موجود دى، بيا د يوه نبي په موجوديت کې هغوى څرنګه وژلى کېدى شي؟ پرښتو وويل چې: مونږ پر ګردو هغو کسانو خبر کړى شوي يو چې هلته اوسيږي، لوط عليه السلام سره له متعلقينو خپلو له هغه ځايه لرې کولى شي، او وروسته له هغه عذاب نازليږي.

وَلَمَّا جَاۗءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْۗءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَّقَالَ هٰذَا يَوْمٌ عَصِيْبٌ ۝

او کله چې راغلل رسولان ځمونږ لوط ته (او د دوى ښايست يې وليد)؛ نو غمجن شو (لوط) په هغو او تنګه شوه په سبب د دوى سينه د ده (چې څه بې عزتي دوى ته ونه رسي)، او وويل لوط: دغه يوه ورځ ده ډېره سخته.

تفسير: دغه پرښتې د ډېرو حسينو او جميلو او د ډېرو ښکليو پيمخو هلکانو په شکل سره متشکلې شوې وې، په اول کې لوط عليه السلام دوى ونه پېژندلې چې پرښتې دي، بلکه د عادي مېلمنو په شان يې وګڼلې، له بل لورې د هغه قوم بې حيايي او بده رشه (عادت) او خراب اخلاقي يې هم ورښکاره وه، نو سخت غمجن او تنګ زړه شو، او په فکر کې ولوېد، چې دغه بدکاران او شريران ځما په دغو مېلمنو پسې هم رالويږي، او دوى به راڅخه بې عزته او بې پته کوي، د مېلمنو پرېښودل هم ورته مشکل وو، او د دوى ژغورل (بچ کول) د دغو خبيثانو له لاسه هم ورته ګران ښکارېده، ګواکې د ګرد قوم د جنګ او جګړې د پېرودلو (اخيستلو) وخت ور د مخه شوى وو.

وَجَاۗءَهٗ قَوْمُهٗ يُهْرَعُوْنَ اِلَيْهِ ۭ وَمِنْ قَبْلُ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ۭ قَالَ يٰقَوْمِ هٰٓؤُلَاۗءِ بَنَاتِيْ هُنَّ اَطْهَرُ لَكُمْ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تُخْزُوْنِ فِيْ ضَيْفِيْ ۭ اَلَيْسَ مِنْكُمْ رَجُلٌ رَّشِيْدٌ ۝

او راغی ده ته قوم د ده حال دا چې رائځاست يې ده ته (لپاره د بدکاری)، او پخوا له (دې نه هم) وو هغوی چې عملونه يې کول د ناکارو کارونو ! (نو چې دوی راورسېدل او طلب د مېلمنو يې وکړ) نو وويل لوط: ای قومه ځما ! دا ښځې لونې ځما دي (په نکاح يې واخلئ) چې دوی ښې پاکې دي تاسې ته، نو وويرېږئ له الله او مه رسوا کوئ ما پـه حق د مېلمنو ځما کې، آيا نشته له تاسې کوم سړی پوهنده (نېک کرداره چې تاسې ته پند درکړي).

تفسير: يعنې دغه قوم ته د هغو نامعقولو حرکاتو او خلاف الفطرتو فواحشو کوم عادت چې لوېدلی وو، هغه به دوی ته د آرام کېناستلو فرصت کله ورکولو، نو کله چې دوی د داسې پيمخو هلکانو له راتګه خبردار شول، په نهايتې بې حيايۍ سره د لوط عليه السلام کره په منډو منډو سره ځغلېدل، او په پوره قوت او شدت سره يې تري مطالبه وکړه، چې دغه مېلمانه هلکان ورپرېږدي، ولې چې مونږ پخوا له دې نه تاته ويلي وو، چې ته به هيڅ يو نارينه خپل ځان کره مېلمه نشې ساتلی، هومره مېلمانه چې دلته راځي؛ هغه ګرد مونږ ته راپرېږده ! ځو هر شی مو چې زړه غواړي همغه پرې وکړو !.

لوط عليه السلام د مېلمنو د پت ساتلو لپاره هر راز کوښښ وکړ، او بالآخر دغه خبره يې هغو شهوت خوښوونکو ظالمانو ته وکړه: «ای ظالمانو ! دغه ځما جونې تاسې ته حاضرې دي، په نکاح سره يې اخيستی شئ، او په حلالې طريقې سره تري متمتع کېدی شئ، چې دغه نهايت پاکيزه او ښکلې طريقه ده، او دا يې ورته ځکه وويل؛ چې د هر قوم نبي د هغوی د پلار په ځای وي، نو د هغوی جونې د هغه لورګانې حسابېږي، له الله تعالی ځخه وېره پکار ده، او تاسو لره له سره دغه کار وړ (لايق) او مناسب نه دی، چې پاکه او مشروعه طريقه پرېږدئ، او په داسې خلاف الفطرت او چټلو (خرابو) کارونو کې ځانونه اخته کړئ ! لږ تر لږه ځما رعايت خو وکړئ ! چې زه د دغو مقدسو مېلمنو په مخ کې شرمنده او رسوا نشم، ځکه چې د مېلمه بې عزتي کټ مټ (هوبهو) د «کوربه» بې عزتي ده، آيا په تاسو کې يو سړی هم داسې نشته چې په داسې سمو سمو خبرو وپوهېږي، او د نېکې او تقوی لاره غوره کړي».

قَالُوا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ ۖ وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيدُ ﴿٧٩﴾

وويل قوم د لوط هرومرو (خامخا) په تحقيق پوهه يې ته چې نشته مونږ لره په لونو ستا کې هيڅ حاجت، او بېشکه ته خامخا پوهېږې په هغه کار چې مونږ يې غواړو (چې لواطت دی).

قَالَ لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ ﴿٨٠﴾

نو وويل لوط: کاشکې وی ماته پر تاسې زور يا مې پناه وړی شوی پناه ځای مستحکم ته.

تفسير: د لوط عليه السلام له ژبې ځخه د انتهايي خوف او پرېشانی په حالت کې بې له جوړولو او سنجولو (فکر کولو) ځخه دغه الفاظ ووتل: «کاشکې په ما کې بالذات دومره قوت وی، چې له تاسې ګردو سره جنګېدم، يا کوم طاقتور او مضبوط پناه ورکوونکی مې لرلی»، يعنې ځما قوم او ټبر او خپل دلته وی.

په حديث کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «يرحم الله لوطا لقد كان يأوي إلى ركن شديد» «الله تعالی دې پر لوط عليه السلام رحم وفرمايي، بېشکه چې هغه مضبوطه او مستحکمه پناه ځای ځانته حاصلوله»، يعنې «الله تعالی» مګر د لوط عليه السلام ځخه وروسته هومره انبياء چې مبعوث شوي دي؛ هغوی ګرد د قوم قبيلې او د ټبر خاوندان وو.

قَالُوا يٰلُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوا إِلَيْكَ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ اللَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ
أَحَدٌ إِلَّا امْرَأَتَكَ ۖ إِنَّهُ مُصِيبُهَا مَا أَصَابَهُمْ ۚ إِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ ۚ أَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيبٍ ﴿٨١﴾

وويل ملائکو: ای لوطه ! بېشکه مونږ رسولان د رب ستا یو، له سره به ونه رسېږي دوی تاته (په ضرر)، نو بوځه اهل خپل (له دې ښاره) په یوې توټې د شپې کې، او نه دي ګوري بېرته له تاسې هیڅ یو، مګر (مـه بیایـه هغـه) ښځه ستا (چې کافـره ده)، بېشکه شـان دا دی چـې رسیدونکی دی دې ته هغه عذاب چې رسېږي دوی ته، بېشکه وعده د (نزول د عذاب پر) دوی صباح ده، آیا نه دی صباح نژدې (بلکه نژدې دی نو تلوار مه کوه !).

تفسیر: کله چې د لوط علیه السلام غم، اندېښنه، اضطراب له حده تېر شو، نو دلته دغو مېلمنو پرې غږ وکړ، چې یا «نبي الله !» تاسې په څه فکر کې تللي یئ؟ مطلق مه پرېشانېږئ ! مونږ د الله تعالی رالېږلې شوي پرښتې یو، چې د دوی د اهلاک لپاره راغلي یو، دغه خبیثان ځمونږ خو هیڅ شی نشي خرابولی، بلکه تاسې ته هم له سره هیڅ زیان او ضرر نشي در رسولی».

په تفاسیرو کې راغلي دي، کله چې دغو شریرانو ورونه او دروازې ماتې کړې، یا له دېواله واوښتل، او دننه د لوط علیه السلام انګړ ته ورغلل، نو دلته جبرئیل علیه السلام د پاک الله په حکم لوط علیه السلام له دوی ځنې جدا کړ، او خپل مټ ته یې لږ څه د دوی په لوري حرکت ورکړ، چې د هغه په اثر ګرد سره ړانده شول، او په چغو سره یې وویل: «هله ژر وتښتئ ! چې د لوط علیه السلام دغه مېلمانه لوی جادوګران ښکاریږي».

کله چې لوط علیه السلام له ډېرې تنګدلی د عذاب د وخت د راتلو پوښتنه وکړه؛ نو جبرئیل علیه السلام ورته وویل چې: په تحقیق وخت د عذاب د دوی صباح دی، یعنې پر دوی سحر وختي عذاب راتلونکی دی، کله چې لږه شپه پاتې شي؛ نو ته سره له متعلقینو دې له دې ځایه تشریف یوسه، او خپلو ملګرو ته هدایت ورکړه ! چې په ډېر تلوار سره دې درومي، او هیڅ یو له دوی ځنې دې بېرته مخ نه ګرځوي، او نه دې ګوري.

هو ! یواځې ستا ښځه دې له تا سره لاړه نشي، یا به بېرته مخ ګرځوي او ګوري به، او په دې ډول به په دغه عذاب کې اخته کیږي، چې په کې هغه ګرد قوم اخته کیدونکی دی.

وایي چې دغې ښځې خپل قوم د دغو مېلمنو په راتګ مطلع کړی وو، بیا لوط علیه السلام وویل چې: تر صباح پورې خو ډېر وخت دی، نو جبرئیل علیه السلام ورته وویل چې: «ای لوطه ! آیا نه دی صباح نژدې؟ بلکه نژدې دی ! یعنې خوشاله شئ !، اوس د دغو ظالمانو په هلاک کېدلو هیڅ دومره ځنډ نه دی پاتې، همدا چې صباح شو په ګهیځ (سحر وختي) کې دوی ګرد سره وژلی کیږي.

فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ ﴿٨٢﴾ مَّنضُودٍ ﴿٨٣﴾ مُّسَوَّمَةً
عِندَ رَبِّكَ ۖ وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ ﴿٨٤﴾

نو څه وخت چې راغی (حکم، عذاب) ځمونږ؛ نو وګرځولو مونږ پورته طرفه د دې (ښار) ښکته طرف ته (یعنې نسکور کړ مونږ پر دوی دا ښارونه) او واورول مونږ پر دغو ښارونو باندې کانې له خټو جوړ شوی په اور پاخه شوی لاندې باندې (پرله پسې). (داسې ګټې چې) نښې کړی شوې وې په نزد د رب ستا، او نه دی دا (کلی، او هم موده دهلاک ددوی) له ظالمانو (کافرانو) څخه لرې.

تفسير: يعني جبرئيل عليه السلام دوی کلی پورته، او تر آسمانه پورې يې نژدې ورسول، او بيا يې له هغه ځايه چپه کړل، او په دغه ډول هغه ګرد کلي سره لاندې باندې شول، بيا د دوی د نکايت او ذلت او رسوايۍ د تکميل لپاره له پاسه پر دوی کرتکانې او تودې دوزخي تيږي (ګټې) هم ووروِلی شوې، او هغه کسان هم پر هم دغو تيږو (ګټو) ووژل، چې له هغه ښارونو څخه د باندې په نورو ځايونو کې اوسېدل (والعياذ بالله).

تنبيه: د ﴿مَّنضُودٍ﴾ معنی محقّق شيخ الهند (رحمه الله) «لاندې باندې» سره کړې ده، ځينو يې معنی پی در پی او مسلسلې او پرله پسې د تيږو ورېدل اخيستې دي.

﴿مُّسَوَّمَةً﴾ يعني کومه خاصه علامه او نښه پر هغو باندې وه، چې هغه يې له نورو تيږو څخه ممتازه او ښکاروله، چې دغه د الله تعالی د عـذاب تيږه ده، ځينې وايي چې پر هرې تيږې د هغه سړي نوم ليکلی وو، چې هغه پرې وژل کېده، او د هغه د اهلاک سبب ګرځېده، والله أعلم.

﴿وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ﴾ يعني دغه د لوط د قوم واقعه د زماني په اعتبار هم قريب دی، ځکه چې وروسته له «عاد» او د «نوح عليه السلام» له قوم څخه دغه واقعه پېښه شوې ده، او د مکان په اعتبار هم ځکه چې د دوی کلي د مدينې منورې او شام تر منځ وو، تېرېدونکو قافلو او جوپو به د هغوی ورانې او نړېدلې کورونه او کنډرې ليدلې.

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ وَلَا تَنقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ ۚ إِنِّي أَرَاكُم بِخَيْرٍ وَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ ﴿٨٤﴾

او (لېږلی وو مونږ ښار) د مدين ته (قومې) ورور د دوی شُعيب، وويل (شعيب): ای قومه ځما عبادت وکړی (يواځې) د الله، نشته تاسې لره هيڅ (بر حق) معبود بې له دغه (الله)، او مه کموئ پيمانه او تله، بېشکه چې زه وينمه تاسې په خير، او بېشکه زه ويرېږم پر تاسې (په سبب د دې خيانت) له عذابه د ورځې چاپېرېدونکې.

تفسير: دغه قصه په ۸او ۹ جزء د الأعراف د سورت ۱۱ رکوع کې پخوا هم تېره شوې ده، يعني کله چې پاک الله تاسو ته فراغت او هوسايي (آرام) در عنايت کړی دی؛ نو ډېر وويرېږئ چې د عصيان او نافرمانۍ لامله هغه له تاسې څخه وانه خيسته شي، او دغه خوښي او خوشالي مو سلبه او دنيوي او اخروي عذاب دربانديې مسلط نشي، ځکه چې تاسو ګرد په خير او عافيت يئ، او په پوره نعمت او دولت سره په راحت يئ، او له سره اهل د حاجت نه يئ، نو ولې داسې خيانت کوئ.

وَيَا قَوْمِ أَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٨٥﴾

او ای قومه ځما ! پوره ورکوئ تاسې پيمانه او تله په انصاف (عدل سره) او مه کموئ تاسې خلقو ته څيزونه (مالونه) د دوی، او مه لټوئ تاسې (خرابي) په ځمکه کې په دغه حال کې چې فساد کوونکي يئ.

تفسير: په ځمکه کې فساد مه کوی يعني له شرکه او کفره يا له لږ پيمانې کولو او تللو څخه، يا په نورو ډولو (طريقو) د حقوقو له اتلافه او ظلمه او تېرې او تجاوز په ځمکه کې فتنه او فساد مه آچوئ، او خرابي مه کوئ !.

بَقِيَّتُ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ۚ وَمَا أَنَا عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ ﴿٨٦﴾

هغه باقي رزق پاتې کړی د الله خير ډېر غوره دی تاسې ته (له هغه چې تاسو يې ټولوئ په خيانت سره) که يئ تاسې مؤمنان (باور کوونکي په خبره ځما)، او نه يم زه پر تاسو ډېر ساتونکی (له منهياتو).

تفسير: يوه ايماندار انسان ته د پاک الله هغه ورکړی شوی مال چې وروسته د پوره او کامل اداء کولو د حقوقو (په حلال صورت) سره پاتې وي، اګر که لږ هم وي؛ له هغه کثير څخه بهتر دی، چې د حرامو په طريقه حاصليږي، يا په کې د نورو خلقو حقوق تلف کيږي، د حلالو په اموالو کې چې په ښه ډول سره پيمانه او وتلل شي، سمدلاسه برکت پيدا کيږي، او د پاک الله له درباره اجر وررسيږي.

قَالُوا يَا شُعَيْبُ أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ أَن نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَن نَّفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاءُ ۖ إِنَّكَ لَأَنتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ ﴿٨٧﴾

نو وويل قوم د ده ای شُعيبه ! آيا دغه ډېر لمونځ کول ستا (درښيي) امر کوي تاته په دې چې پر ېږدو مونږ هغه بتان چې عبادت به کاوه (د هغو) پلرونو ځمونږ، يا (په دې امر کوې چې پر ېږدو مونږ) دا چې وکړو مونږ په اموالو خپلو هغه تصرف چې غواړو يې (د ډېر اخيستلو او لږ ورکولو)، بېشکه ته خامخا هم ته يې لوی باوقاره سم په لاره (نېک کرداره).

تفسير: دغه خبرې يې د استهزاء او تمسخر په ډول کولې، چې «بس کړه صاحبه ! زيات له دې نه مه مشر کېږه ! آيا په ګرد قوم کې همدا يواځې ته لوی عقلمن باوقاره نېک کردار يې؟ او باقي مونږ او ځمونږ مشران ګرد جاهلان او احمقان دي؟»، شُعيب عليه السلام ډېر زيات لمونځ کاوه، نو دوی ورته وويل چې: «ښايي ستا دغه ډېر لمونځ کول تاته داسې حکم درکوي چې له مونږ څخې ځمونږ د پلرونو او نيکونو دين پردی کړې، او ځمونږ د ملکيت اختيار ځمونږ په مملوکه وو مالونو کې لرې کړې، بس ته دې خپل لمونځ کوه، او ځمونږ په ديني او دنياوي معاملاتو وزن او کيل او تللو کې ستا د مداخلې هيڅ ضرورت له سره نشته».

قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَرَزَقَنِي مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ۚ وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَىٰ مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ ۚ إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ۚ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿٨٨﴾

وويل شُعيب: ای قومه ځما ! آيا وينئ تاسې (خبر راکړئ ماته) که يم زه په برهان (واضح بيان) له جانبه د رب خپل، او راکړی يې وي ماته له درباره خپله رزق روزي ښايسته نېکه، او نه لرم اراده د دې چې مخالفت وکړم له تاسې (او راشم) هغه کار ته چې منع کوم تاسې له هغه کاره، اراده نه لرم زه مګر د اصلاح (ستاسې) څو چې توان کيږي ځما، او نه دی توفيق ځما (په اصلاح ستاسې کې) مګر په (هدايت نصرت د) الله، خاص پر همدغه الله توکل کړی دی ما، او د همده په طرف رجُوع کوم.

تفسير: يا خو ظاهري روزي مراده ده، يعنې بې د پيمانې او د تلې، وزن د تزييد او تنقيصه په حلالې طريقې سره يې روزي عطا کړېده، يا باطني روزي مقصوده ده، يعنې علم او حکمت او نبوت يې عطا کړی دی، خلاصه يې دا ده که

ماته حق تعالى فهم او بصيرت راكړى وي، او داسې سمه صافه لاره يې راښوولې وي، چې تاسې يې نشئ ليدلى، او په دولت او شته والي يې مړ كړى يم، چې له هغه ځنې تاسې بې برخې يئ، نو آيا د هغه حق دا دى چې معاذ الله زه ستاسې پشان ړوند شم، او د الله تعالى له احكامو څخه مخ واړوم، يا ستاسې له دغې استهزاء او تمسخر (ټوكې ټكالې) څخه وويربرم، او پند وركول او پوهول پربردم، زه به له سره داسې نه كوم.

﴿وَمَآ أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَىٰ مَآ أَنْهَىٰكُمْ عَنْهُ﴾ يعنې د دې لپاره ترې تاسو نه منع كوم، چې ځوندې زه پخپله يې وكړمه، يا له هغو خرابو كارونو څخه چې زه تاسې منع كوم، زه له سره نه غواړم چې ځان له تاسې ځنې بېل كړم، او پخپله د هغه مرتكب شم، مثلا تاسې تاركُ الدنيا وكړئ‌وم، او زه پخپله مال او دولت راټول كړم، نه هغه پند او نصيحت چې زه يې تاسې ته كوم، زه له تاسو څخه لا ړومبى د هغو په تعميل كې مشغول او لګيا يم، تاسې دغه الزام پر ما باندې نشئ اړولى، چې ځما پند پر ځان غوښتنه يا هوا او هوس محمول كړئ.

﴿إِنْ أُرِيدُ إِلَّا ٱلْإِصْلَٰحَ مَا ٱسْتَطَعْتُ﴾ الآيه ـ يعنې ځما زياتر كوښښ دا دى چې ستاسې ديني او دنيوي حالت ښه شي، او اصلاح ومومي، او دغه موجوده خراب حالت مو لرې شي، او د ايمان او عرفان په لوړه (اوچته) د ختلو كوښښ وكړئ، پرته (علاوه) له دغه اصلاح له مقصده بل كوم مطلب نه لرم، چې زه مې خپل دغه مرام تر خپل مقدور او استطاعت پورې په هيڅ يو حالت كې له سره نشم پرېښودى، پاتې شوه دغه خبره چې ځما دغه مقصد تر پايه (آخره) هم ورسيږي، او زه په دغه كوښښ كې بريالى هم شم، دغه ګرد د قدوس الله په قبضه او واك كې دي، او د پاك الله په امداد او توفيق سره ګرد كارونه سر ته رسېدى شي، ځما اعتماد او توكل پر همغه پاك الله دى، او په هرې معاملې كې هغه ته رجوع كوم.

وَيَٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِىٓ أَن يُصِيبَكُم مِّثْلُ مَآ أَصَابَ قَوْمَ نُوحٍ أَوْ قَوْمَ هُودٍ أَوْ قَوْمَ صَٰلِحٍ ۚ وَمَا قَوْمُ لُوطٍ مِّنكُم بِبَعِيدٍ ﴿٨٩﴾

او اى قومه ځما ! باعث دې نه كړي تاسې لره دښمني (ستاسې) ما لره دا خبره چې ورسيږي تاسې ته په شان د هغه (عذاب) چې رسېدلى وو قوم د نوح ته (چې غرقېدل وو) يا قوم د هود ته (چې سخت باد وو) يا قوم د صالح ته (چې زلزله وه)، او نه دى قوم د لوط له تاسې څخه (اى كفارو دومره) لرې (په زمان مكان نو پرې عبرت واخلئ).

تفسير: يعنې ځما د ضد، عناد او عداوت په جوش كې داسې حركات مه كوئ، چې تاسې د هغه په سبب د تېرو اقوامو پشان د ډېرو سختو عذابونو وړ (لائق) او مستحق شئ ! د نوح، هود، او صالح عليهم السلام پر امتونو د تكذيب او عداوت لامله هغه عذاب چې نازل شوى دى، هر چاته ښكاره دى، د لوط عليه السلام د قوم قصه خو له دغو ګردو څخه وروسته په هم دغې نژدې زمانې كې واقع شوې ده، او د هغې ياد به ستاسې په حافظه كې موجود وي، نو دغه نظائر له سره مه هېروئ.

يعنې كه تاسې د نوح او د هود او د صالح عليهم السلام د قوم له تعذيب څخه په سبب د لرې والي د زمانې عبرت نشئ اخيستى؛ نو نه دى قوم د لوط له تاسې لرې، نه په زمان سره، نه په مكان سره، نو په هغه خو خامخا عبرت واخلئ !.

وَٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ ۚ إِنَّ رَبِّى رَحِيمٌ وَدُودٌ ﴿٩٠﴾

او مغفرت وغواړئ تاسې له رب خپل (په راوړلو د ايمان سره) بيا رجوع وكړئ تاسې په طرف د ده (په خصوص او خلوص د عبادت سره) بېشكه رب ځما ډېر مهربان دى، محبت كوونكى دى.

تفسير: هومره چې قديمي او په هره اندازه چې سخت مجرم او لوی ګناهګار هم وي، کله چې دی د زړه په صدق او اخلاص سره د الله دربار ته رجوع وکړي، او معافي وغواړي؛ نو يې پخپل فضل او کرم سره بخښي، بلکه له ده سره مينه او محبت هم کوي.

قَالُوا يٰشُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِّمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرٰىكَ فِينَا ضَعِيفًا ۖ وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنٰكَ ۖ وَمَا أَنتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ ﴿٩١﴾

وويل قوم (د ده په ځواب کې): ای شعيبه ! نه پوهيږو مونږ په ډيرو هغو خبرو چې ته يې وايې (مونږ ته د توحيد په تعريف او منع د تطفيف)، او بېشکه مونږ خامخا وينو تا په مونږ کې کمزوره، او که نه وي دغه خپلوان ستا (چې په کفر کې له مونږ سره شريکان دي)؛ نو خامخا سنګسار کړی به وی مونږ ته، او نه يې ته پر مونږ هيڅ قدر عزتناک.

تفسير: دوی خو پر ګردو شيانو ډېره ښه پوهېدل، ليکن د ضد، عناد او حق پټولو لامله به يې داسې خبرې کولې، چې مونږ پر دغو خبرو له سره نه پوهيږو، چې ته څه وايې، او د مجذوبانو په شان تل ګړبړې، (العياذ بالله)، او که په رښتيا سره دوی په همغې سمې صافې خبرې باندې له خپلې بې توجهۍ يا د غباوت له وجې نه پوهېدل، نو دغه کلام به په خپل ظاهر باندې محمولېده.

﴿وَإِنَّا لَنَرٰىكَ فِينَا ضَعِيفًا﴾ يعنې يو کمزور او بې حقيقته سړي ته نه ښايي چې ګرد عالم له خپل ځان سره دښمن کړي، بلکه ورته لازم دي، چې پر خپل حال باندې رحم وکړي، او خپل هوسا (آرام) ځان په ربړو (تکليفونو) اخته نه کړي، او په لوی لاس خپل ځان د مرګ په خوله کې ونه غورځوي، چې هيڅ يوه فائده او ګټه (منافع) ورته نه رسوي.

﴿وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنٰكَ﴾ يعنې که ستا د کورنۍ او د ټبر خلقو لحاظ او خاطر نه وی چې له مونږ سره اوسيږي؛ نو لا له پخوا څخه به مو ته سنګسار کړی وې.

قَالَ يٰقَوْمِ أَرَهْطِي أَعَزُّ عَلَيْكُم مِّنَ اللَّهِ ۖ وَاتَّخَذْتُمُوهُ وَرَاءَكُمْ ظِهْرِيًّا ۖ إِنَّ رَبِّي بِمَا تَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٩٢﴾

وويل (شُعيب) ای قومه ځما ! آيا دغه خپلوان ځما ډېر عزيز (مخور) دي پر تاسې له الله، او ګرځولی مو دی دغه (الله) وروسته ستاسې شاته غورځولی شوی (چې هيڅ پروا يې نه کوئ)، بېشکه رب ځما پر هغو کارونو چې کوئ يې تاسې ښه احاطه کوونکی دی (نو جزاء د ټولو به درکړي).

تفسير: يعنې د افسوس او تعجب ځای دی، چې ځما د کورنۍ له سببه مې د رعايت وړ او مستحق بولئ، مګر د دې لامله مې هيڅ لحاظ او خاطر نه کوئ، چې زه د پاک الله نبي او تاسې ته درلېږلی شوی يم، او صاف او صريح دلائل او نښې د خپل تصديق لپاره درښيم، ګواکې ستاسې په سترګو کې ځما د کورنۍ عزت، قوت، قدرت او نور له الله قدّوس څخه زيات دی، او د پاک الله عظمت او جلال مو داسې هېر کړی دی، چې په تصور کې مو هم له سره نه راځي.

وَيٰقَوْمِ اعْمَلُوا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ ۖ سَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ ۖ وَارْتَقِبُوا إِنِّي مَعَكُمْ رَقِيبٌ ﴿٩٣﴾

او ای قومه ځما ! عمل کوئ په ځای خپل (يعنې په حالت خپل چې شرک او معصيت دی) چې بېشکه زه هم عمل کوونکی يم په حال خپل (چې توحيد او طاعت دی)، ژر به وپېژنئ تاسې هغه

څوک چې راځي ده ته عذاب چې رسوا کوي هغه، او (وبه پټڼئ) هغه څوک چې دروغ ویونکي دي، او انتظار کوئ (د عاقبت خپل) بېشکه زه هم له تاسې سره انتظار کوونکی یم د عاقبت خپل.

وَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَأَخَذَتِ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دِيَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿٩٤﴾ كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا فِيهَا أَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُودُ ﴿٩٥﴾

او کله چې راغی امر (حکم، عذاب) ځمونږ؛ نو خلاص کړ مونږ شُعیب او هغه کسان چې ایمان یې راوړی وو له ده سره (له دغه عذابه) په رحمت سره له نزده خپله، او ونیول هغه کسان چې ظلم یې کړی وو (په کفر سره) غږ سخت؛ نو ګهیځ (سحر وختي) وګرځېدل دوی په کورونو خپلو کې مړه وچ کلک پراته پر زنګنونو خپلو، (داسې تباه شول) لکه چې نه وو اوسېدلي په دغو کورونو کې (پخوا له دې نه)، خبردار شئ ! واورئ ! لرې والی دی (له رحمته او هلاک دی قوم د) مدین ته، لکه چې لرې او هلاک شول ثمودیان.

تفسیر: دلته د شُعیب علیه السلام د قوم په «صیحة» (سخته چغه) سره هلاکېدل مذکور دي، او په «الأعراف» کې د «رجفة» لفظ راغلی دی، یعنې په زلزلې سره وژلی شوي دي، او د «الشعراء» په سورت کې «عذاب یوم الظلة» راغلی دی، چې مطلب یې دا دی د عذاب وربځ لکه سایوان پر دوی محیطه شوې وه.

ابن کثیر (رحمه الله) لیکي چې: «دغه درې واړه عذابونه د دې قوم په حق کې سره جمع شوي وو، بیا په هر سورت کې دهغه ځای د سیاق سره مناسب عذاب ذکر شوی دی.

په «الأعراف» کې وو چې هغو خلقو چې شُعیب علیه السلام ته وویل چې: مونږ تاسې او ستاسې ملګري له دغې خپلې ځمکې څخه وباسو نو هلته یې دروښوده، چې له هغې ځمکې څخه چې تاسې مسلمانان ترې وباسئ؛ د همغې ځمکې د زلزلې له اثره به ووژلی شئ، کله چې دلته د هغو د سختو بې ادبیو مقالاتو ذکر دی، نو ځکه یې د هغه په مقابل کې د آسمان «صیحې» یعنې سختې چغې ذکر وفرمایه، ګواکې د الله تعالی د عذاب د یوې چغې کې د هغو ټول شورماشور او ویناوې ورکې شوې، د «الشعراء» په سورت کې یې د دوی دغه قول نقل کړی دی: ﴿فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ السَّمَاءِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ﴾ یعنې که ته رښتینی یې؛ نو پر مونږ د آسمان یوه ټوټه راغورځوه ! نو د هغه په مقابل کې د «عذاب یوم الظلة» تذکره وفرمایله شوه.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٩٦﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِ فَاتَّبَعُوا أَمْرَ فِرْعَوْنَ وَمَا أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ ﴿٩٧﴾

او خامخا په تحقیق لېږلی وو مونږ موسی (په ښکاره) معجزو خپلو سره او په برهان (قاطع حجّت) واضح سره. فرعون او مشرانو د (قوم د) ده ته، او متابعت وکړ دغو (مشرانو) دامر (حکم) د فرعون، حال دا چې نه وو حکم د فرعون برابروونکی په سمې لارې.

تفسیر: له نښو څخه غالبا معجزات او هغه (۹) نښې مرادې دي چې د هغو ذکر په ﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَىٰ تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ﴾ کې شوی دی، د هغو له منځه د «عصا» معجزه یې چې نهایته ظاهره او قاهره معجزه وه شاید «سلطان مبین» یعنې واضح سند فرمایلی وي، یا له «سلطن مبین» څخه هغه روښانه دلائل مراد دي، چې موسی علیه السلام هغه د فرعون په مخ کې د الله تعالی د وجود او توحید او نورو په متعلق وړاندې کړي وو، چې د هغو ذکر په نورو مقاماتو کې راځي، او ممکن دی چې له «سلطان مبین» څخه د هغه لغوي معنی مراد وي، یعنې ښکاره بری یا ظاهره غلبه، ځکه چې د فرعونیانو په مقابل

کې موسی علیه السلام ته ظاهره غلبه او فتح مبین څو څو کرته حاصله شوې ده، یعنې سره د ښکاره او واضحو نښو له لیدلو څخه بیا هم فرعونیان د الله تعالی د نبي علیه السلام خبره وانه ورېده، او همغه الله د دښمن فرعون پر حکم به یې تګ او عمل کاوه، حال دا چې د فرعون هیڅ یوه خبره داسې جوته او صحیحه نه ده، چې د هغې په قبلولو سره انسان نېکي او ښېګڼه (فائده) حاصله کړی شي.

يَقْدُمُ قَوْمَهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَأَوْرَدَهُمُ النَّارَ ۖ وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُودُ ﴿۹۸﴾

مخکې به شي (دغه فرعون) د قوم خپل نه په ورځ د قیامت کې، نو ننه به باسي هغوی په اور کې، او بد ځای د ورتلو (د دوی هغه) دی چې وروستل شي دوی.

تفسیر: یعنې همغسې چې فرعون دلته په کفر او تکذیب کې د دوی امام او قائد وو، په قیامت کې به هم د هغو امام او قائد وي، هغو خلقو چې په دنیا کې د ړندو پشان د فرعون تقلید کاوه، دوی به د ده تر شا تر آخري منزل (جهنّم) پورې ورسېږي، دا همغه کنده ده چې هلته به د یخو اوبو په ځای ډېر سوځوونکی ایرې کوونکی اور ورسېږي.

وَأُتْبِعُوا فِي هٰذِهِ لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۖ بِئْسَ الرِّفْدُ الْمَرْفُودُ ﴿۹۹﴾

او ورپسې لګولی شوی دی په دغه دنیا کې لعنت او په ورځ د قیامت (هم)، بد انعام دی (هغه چې دوی ته) ورکړی شوی (دی).

تفسیر: یعنې تر څو چې دنیوي خلق به پر فرعون او فرعونیانو لعنت لیږي؛ بیا په قیامت کې د ملائک الله او اهل الموقف له لوري به هم پر دوی لعنت وریږي، الغرض د لعنت سلسله به پر دوی پرله پسې جریان لري، او هیڅ به تري نه ښلیږي، ګواکې استهزاء دغه یو انعام دی چې د هغه پر چارو ورته ورکړی شوی دی.

ذٰلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْقُرٰى نَقُصُّهُ عَلَيْكَ مِنْهَا قَائِمٌ وَحَصِيدٌ ﴿۱۰۰﴾

دا (تېرې شوې خبرې) له احوالو د قریو دي چې بیانوو مونږ هغه پر تا باندې، چې ځینې له هغو قریو ولاړې دي (کنډوالې د دوی او اهل یې هلاک دي) او ځینې یې رېبلی شوي دي (سره د اهل خپل لکه کښت «فصل» چې په لرونو سره رېبلی شوی وي).

تفسیر: یعنې د هغو قومونو قصې چې مونږ تاسې ته درواورولې چې په څه شانې هغوی د انبیاوو علیهم السلام تکذیب او له هغو سره یې بې ادبي او سپین سترګي وکړه؟ او بیا څرنګه تباه شول؟ د هغوی ځینې کلي اوس هم ودان دي، لکه مصر چې د فرعون دار السلطنت وو، او ځینې وران شوي دي، مګر د هغوی څه کنډوالې لا پاتې دي، لکه د لوط علیه السلام د قوم کلی او د ځینو نښې هم د دنیا له مخې بیخي لرې او ورکې شوي دي.

وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ فَمَا أَغْنَتْ عَنْهُمْ آلِهَتُهُمُ الَّتِي يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ لَمَّا جَاءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ وَمَا زَادُوهُمْ غَيْرَ تَتْبِيبٍ ﴿۱۰۱﴾

او ظلم نه وو کړی مونږ پر دوی (په هلاکولو سره) ولیکن ظلم کړی وو هغوی پر ځانونو خپلو (په سبب د کفر او عناد) نو هیڅ دفع ونه کړه له دوی څخه هغو باطلو معبودانو د دوی هغه چې بلل به دوی غیر له الله (او د هغوی عبادت به یې کولو) هیڅ شی (د عذاب) کله چې راغی امر (حکم، عذاب) د رب ستا، او زیات نه کړ دغو معبودانو دوی ته (هیڅ شی) غیر له هلاکته.

تفسير: يعني پاک الله دوی بې قصوره ونه نيول چې د ظلم وهم پرې وشي، کله چې دوی د جرائمو په ارتکاب کې له حده تېر شول، او په دغه ډول يې خپل ځانونه على رؤوس الأشهاد د سزا وړ او مستحق وګرځول، نو دلته پر دوی د پاک الله عذاب نازل شو، بيا وګورئ پر هغو باطلو معبودانو چې دوی ډېر ډاډه او مطمئن وو، او له هغو څخه يې لوی توقعات او اميدونه درلودل، هغوی هم داسې سختو مصيبتونو په وخت کې د دوی هيڅ پکار وره نغلل، باطل معبود يې څه پکار ورغی؟ بلکه د دوی د هلاک سبب وګرځېد.

وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ ۭ اِنَّ اَخْذَهٗٓ اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ ۝۱۰۲ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ الْاٰخِرَةِ ۭ ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوْعٌ ۙ لَّهُ النَّاسُ وَذٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُوْدٌ ۝۱۰۳

او په شان د همدغو (نيولو) نيول د رب ستا دي کله چې ونيسي الله اهل د قريو حال دا چې دا (اهل د قريو کافر) ظالم وي، بېشکه نيول د الله ډېر دردناک سخت زورور دي، بېشکه په دې (مذکوره وو قصو) کې خامخا ډېر عبرت دی لپاره د هغه چا چې ويريږي له عذابه د آخرت څخه، دغه ورځ د قيامت داسې يوه ورځ ده چې جمع به کړی شي په دې کې ټول خلق او دا ورځ ده چې حاضر به شي ورته ټول مخلوقات.

وَمَا نُؤَخِّرُهٗٓ اِلَّا لِاَجَلٍ مَّعْدُوْدٍ ۝۱۰۴

او نه به وروستی کوو مونږ دا (ورځ) مګر لپاره د پوره کېدلو د نېټې معلومې (په نزد د الله).

تفسير: يعني د الله تعالى په علم کې کوم ميعاد چې مقرر دی؛ هغه ضرور پوره کېدونکی دی، او بيا هغه لويه ورځ راتلونکې ده، له دغه تأخير څخه داسې مه اټکل کوئ، چې دغه خبرې محض فرضي او وهمي خبرې دي (العياذ بالله).

يَوْمَ يَاْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ۚ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّسَعِيْدٌ ۝۱۰۵

په هغه وخت کې چې راشي قيامت، نه کوي خبرې هيڅ نفس مګر په اذن حکم د الله سره، نو ځينې له دغو خلقو به بدبخته او (ځينې به) نېکبخته وي.

تفسير: يعني هيڅوک به هغه خبره چې مقبوله او نافعه هم وي، بې د الله تعالى له اذنه او حکمه نشي ويلی، او د محشر په ځينو مواقفو کې خو مطلقاً يو حرف هم بې له اذنه او اجازې له خولې نشي ايستلی.

فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّشَهِيْقٌ ۝۱۰۶ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَاۗءَ رَبُّكَ ۭ اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ۝۱۰۷ وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَاۗءَ رَبُّكَ ۭ عَطَاۗءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ ۝۱۰۸

نو هر څه هغه کسان چې بدبختان شوي دي؛ نو په اور کې به وي، وي به هغوی ته په هغه اور کې جګ (اوچت) سخت غږ (چې د حلقه وځي)، او ټيټ نرم غږ (چې د سينو وځي لکه د خرو). همېشه به وي دوی په دغه اور کې څو چې وي آسمانونه او ځمکه مګر چې اراده وفرمايي رب ستا، (چې بوځي له سعيره زمهرير ته)، بېشکه رب ستا کوونکی دی د هر هغه کار چې اراده وفرمايي. او هر چې هغه کسان دي چې نېک بختان شوي دي؛ نو په جنت کې به وي همېشه به

وي په همدغه جنت کې تر څو چې وي آسمانونه او ځمکه مګر چې اراده وفرمايي رب ستا (چې يې بوځي رضوان او لقاء الرحمن ته)، (دغه ورکړه) عطاء بخښش دی بې انتهاء (بلا انقطاع).

تفسير: د دغو آيتونو دوه معنی کېدی شي، يوه دا چې هومره مدت چې آسمان او ځمکه په دنيا کې پاتې وي، تر همغه مدت پورې اشقياء په دوزخ کې او سعداء په جنت کې اوسېږي، مګر هغه چې د زيادت اراده وکړي رب ستا او هغه هم ده ته معلوم دی، ځکه کله چې مونږ له طويلو څخه د طويلو زمانو تصور کوو، نو خپلو شاوخوا او ماحولونو په اعتبار اوږد مدت همدغه په خيال کې راځي، نو ځکه ﴿مَادَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ﴾ او نور الفاظ د عربو په محاوراتو کې د دوام د مفهوم د اداء کولو لپاره ويلی کېږي، باقي د دوام او ابديت اصلي مدلول چې ورته لا محدوده زمانه ښايي وويلی شي؛ نو هغه د پاک الله د هغه لا متناهي علم سره مختص دی، چې هغه يې په ﴿مَا شَآءَ رَبُّكَ﴾ سره اداء فرمايلې ده.

د آيت دويمه معنی دا کېدی شي چې د ﴿مَادَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ﴾ لفظ له دوامه کنايه واخيست شي.

يا له آسمانه او ځمکې څخه د آخرت آسمان او ځمکه مراد شي، لکه چې فرمايلې يې دي: ﴿يَوْمَ تُبَدَّلُ الْاَرْضُ غَيْرَ الْاَرْضِ وَالسَّمٰوٰتُ﴾ (۱۳ جزء د ابرهيم سورت ۴۸ آيت ۷ رکوع).

مطلب يې داسې شو چې اشقياء په دوزخ کې او سعداء په جنت کې تر هغه وخت پورې اوسېږي، چې د اخرت ځمکه او اسمان باقي وي، يعنې همېشه مګر که اراده يې وکړي رب ستا؛ نو موقوفوي يې، ليکن دا اراده يې نه کېږي، او محال وقوعي ده، ځکه چې د جنتيانو او د دوزخيانو خلود هم د پاک الله په مشيئت او اختيار کې دی، مګر خپله دغه اراده يې لا له پخوا څخه فرمايلې ده، چې د کفارو او مشرکينو عذاب او د اهل الجنت ثواب له سره موقوف کېدونکی نه دی، لکه چې فرمايلي يې دي: ﴿وَمَا هُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنَ النَّارِ﴾ (د البقرې سورت (۱۶۷) آيت (۲۰) رکوع) او ﴿يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنَ النَّارِ وَمَا هُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنْهَا﴾ (د المائده سورت (۳۷) آيت (۲) رکوع) او ﴿لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ﴾ (د البقره سورت (۱۶۲) آيت (۱۹) رکوع) او ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ﴾ (۵ جزء د النساء سورت (۱۱۶) آيت (۱۸) رکوع).

او پر همدغه د ګرد اهل الاسلام اجماع ده، ځمونږ د زمانې ځينې تش په نامه مفسرين هغه څه چې د ده په خلاف يې ليکلي دي؛ هغه خو يا ضعيف او موضوع روايات دي، يا غريب او مؤول روايات دي، يا ځينې هغه آيتونه او احاديث دي چې د هغو پر مطلب د لنډ کتلو او خراب پوهېدلو لامله غلط پوهېدلی شوي دي، که الله تعالی توفيق راسره مل کړ، او د مستقل تفسير د ليکلو وار راغی؛ نو پر دې به مفصل کلام وکړو، د اختصار له سببه دلته د څه ليکلو موقع نشته، پاتې شوه د «عصاة الموحدين» مسئله يعنې هغه مسلمانان چې د خپلو ګناهونو لامله په دوزخ کې غورځولی کېږي (العياذ بالله)؛ نو د هغوی په متعلق صحيحو احاديثو مونږ د پاک الله پر مشيئت مطلع کړي يو، چې يوه ورځ هرومرو دې له دوزخ څخه ايستلی کېږي، او جنت ته رسول کېږي، ولې له جنته هيڅ يو جنتي د باندې نه ايستل کېږي، ښايې په همدې لحاظ د جنتيانو په ذکر کې ﴿عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ﴾ او د اشقياوو په ذکر کې ﴿اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ﴾ ارشاد فرمايلی وي، څو معلوم شي چې ځينې اشقياء به له دوزخه ايستل کېږي، مګر هيڅ يو سعيد به له جنته نه ايستل کېږي.

فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ هٰٓؤُلَآءِ ؕ مَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا كَمَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُهُمْ مِّنْ قَبْلُ ؕ وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ غَيْرَ مَنْقُوْصٍ ﴿۱۰۹﴾

پس مه کېږه ته په شک کې له هغو معبودانو چې عبادت يې کوي دغه کسان، نه کوي عبادت دوی مګر لکه چې عبادت به کاوه پلرونو د دوی پخوا (له دې نه)، او بېشکه چې مونږ پوره ورکوونکي يو دوی ته د برخې د دوی (له عذابه) بې له نقصانه.

تفسير: يعني د دومره مخلوقاتو د شرک او بُت پرستۍ پر لاره لوېدل، او تر اوسه پورې د دوی په سزا نه رسېدل، داسې يو شی نه دی چې پرې انسان وغولېږي، او په شبهه کې ولويږي، دغه خلق د خپلو پلرونو او نيکونو په بې اساسه تقليد کې مشغول او لګيا دي، هغه د دروغو معبودان د دوی په څه کار ورځي؟ يقينا دغو ټولو ته په آخرت کې پوره سزا وررسېږي، چې په کې هيڅ زيادت او نقصان به نه وي، ګواکې د ﴿غَيْرَ مَنْقُوصٍ﴾ لفظ د ﴿عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوذٍ﴾ په مقابل کې اينبی شوی دی.

بعض مفسرين وايي چې په دنيا کې د رزق او نورو کومه برخه چې مقدره ده؛ هغه پوره ورسېږي، بيا د شرک پوره سزا هم مومي.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿۱۱۰﴾

او خامخا په تحقيق ورکړی وو مونږ موسی ته کتاب (تورات)؛ نو اختلاف وکړ شو په دغه کې، او که نه وی هغه کلمه (حکم) چې رومبی شوی وو له ربه ستا (د تأخير د جزا تر قيامته پورې) نو خامخا فيصله به شوې وه په منځ د دوی کې (په دنيا کې)، او بېشکه دوی خامخا په شک کې دي له دې (قرآنه) پراته دي په داسې شک کې چې غورځوونکی د زړونو دی په اضطراب کې.

تفسير: موسی عليه السلام ته يې کتاب ورکړ، او راويې لېږه، نو بني اسرائيلو پخپلو منځونو کې اختلاف سره وکړ، ځينو هغه ومانه او ځينو تري سر وغړوه، لکه چې نن ورځ د لوی قرآن په نسبت همداسې اختلاف د انسانانو په منځ کې شته، بېشکه چې پاک الله د دې خبرې قدرت درلود، چې دغو اختلافاتو او تفريقونو ته موقع ورنه کړي، يا د هغه له پيدا کولو ځخه وروسته د ګردو مکذبينو فوري استيصال او ټولې جګړې له يوې مخې لرې کړي، مګر د ده تکويني حکمت د دې خبرې اقتضاء ونه کړه.

يوه خبره د ده له حضوره لا له پخوا ځخه مقرره او ټاکلې شوې ده، چې انسان ته يې تر يوه خاص حد پورې د کسب او اختيار آزادي او خپلواکي ورکړې ده، او د امتحان په ميدان کې يې خوشې کړی دی، او ورته ګوري چې دی په کومه لاره درومي؟ آيا د خالق او مخلوق حقوق په ښه ډول سره پېژني، او د پاک الله د رحمت او کرامت وړ او مستحق ګرځي؟ که کړه لاره غلطه چاره ځان ته غوره کوي، او د صحيح فطرت لارښوونې ته څه اهميت نه ورکوي، او خپل ځان د الله تعالی د غضب او سخط مظهر ګرځوي؟.

﴿لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا﴾ د همدغه مقصد په اقتضاء د انسان خلقت داسې اينبی شوی دی چې دی د نېکۍ او بدۍ په اختيارولو کې بالکل مجبور او مضطر نه وي، نو د دغه لازمي نتيجه دا ده چې په دنيا کې د خير او شر او د نېکيو او بديو مقابله يو له بل سره جاري او تل ارتباط ولري، چې وروسته د دوی له منځه مغضوب اومرحوم سره ببل کړل شي، څو د ﴿لَاَمْلَـَٔنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ﴾ سره د ﴿اِلَّا مَنْ رَّحِمَ رَبُّكَ﴾ سره والا خبره هم پوره شي.

غالبا دا هغه لفظ دی که يې نه وی فرمايلی؛ نو د ګردو اختلافاتو خاتمه به بيخي يو ځلي سره کېده، عام خلق د دغو خبرو د حکمتونو په نه پوهېدلو لامله په شک کې لويدلي دي، چې وروسته له دې نه به هم د دغو اختلافاتو فيصله سره کيږي که نه؟.

وَاِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ اَعْمَالَهُمْ ؕ اِنَّهٗ بِمَا يَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۱۱﴾

او بېشکه هره فرقه (د مؤمنينو او د کافرينو) ځنې قسم دی چې خامخا پوره به ورکړي دوی ته رب ستا (جزاء) د عملونو د دوی، بېشکه چې الله پر هغو کارونو چې کوي (يې) دوی خبردار دی.

فَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا ۚ إِنَّهُۥ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١٢﴾

نو مستقيم او ثابت اوسه لكه چې حكم كړی شوی دی تاته او (هم مستقيم او ثابت دې اوسي) هغه څوک چې توبه يې ايستلې ده له تا سره، او مه تېرېږئ له حده، بېشكه چې الله پر هغو كاورنو چې كوئ يې تاسې ښه ليدونكی دی.

تفسير: يعنې ته د دغو مشركينو په جګړو او دعواوو او دنګلو كې خپل ځان مه غورځوه، ښايي چې تاسې او هغه مسلمانان چې له كفره او شركه او نورو څخه يې توبه ايستلې ده، او ستاسې رفاقت او ملګرتوب يې غوره كړی دی، او د پاک الله په لوري يې په صدق سره رجوع كړې ده، د الله تعالى پر احكامو په نهايت مېړانې (بهادری) او استقلال او استقامت سره تل ټينګ او كلك ولاړ اوسئ ! په عقائدو، اخلاقو، عباداتو، معاملاتو، دعوت، تبليغ او نورو ګردو شيانو كې له افراطه او تفريطه ډېل اوسئ ! او د توسط او استقامت پر لاره سم رهي (روان) شئ ! په هيڅ يوې معاملې كې د افراط او تفريط خوا مه نيسئ، او له شرعي حدودو د باندې مه وځئ ! او يقين ولرئ ! چې الله جل وعلا هره شېبه (لحظه) ستاسې اعمالو ته ګوري.

وَلَا تَرْكَنُوٓا إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ ۖ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنْ أَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿١١٣﴾

او مه مائلېږئ تاسې (په دوستۍ سره) په طرف د هغو كسانو چې ظلم يې كړی دی؛ نو وبه رسيږي تاسې ته اور (د دوزخ) حال دا چې نه به وي تاسې ته پرته (علاوه) له الله هيڅ دوستان (چې ومو ساتي له عذابه) بيا به ونه كړي شي درسره مرسته.

تفسير: پخوا په ﴿وَلَا تَطْغَوْا﴾ كې يې له حده د باندې او بهر وتلو څخه منع كړې وه، اوس دا راښيي چې هغو ظالمانو خلقو ته نه ښايي چې ستاسې لږ ميلان رجحان دوی ته وي، د دوی له موالاتو، مصاحبتونو، تكريمو، مدحو، او ثناوو، ظاهري تشبهو، د عمل اشتراک او له هرې خبرې څخه حسب المقدور محترز او حتى الامكان مجتنب اوسئ !.

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَىِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيْلِ ۚ إِنَّ ٱلْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾

او قائم كړه لمونځ په دواړو طرفونو د ورځې او په ساعاتو له شپې (چې نژدې وي ورځې ته)، بېشكه چې نيكي (پنځه وخته لمونځ) لرې كوي بدي (كوچني ګناهونه)، دغه (فرمان او وعده) پند دی لپاره د پند قبلوونكو.

تفسير: ظالمانو ته سر مه ټيټوئ ! بلكه «وحده لا شريك له الله» ته خپل سرونه ټيټ كړئ ! يعنې صباح، ماښام، او د شپې په تياره كې په خشوع او خضوع سره لمونځونه ادا كوئ ! چې همغه د پاک الله د مدد د حاصلولو ډېره لويه ذريعه ده.

تنبيه: د ورځې د دوه طرفونو يعنې طلوع او غروب څخه پخوا، د فجر او عصر لمونځونه مراد دي، يا يو طرف فجر او بل طرف مغرب كېښود شي، چې هغه هم بالكل له غروب سره متصل وي، او د ځينو اسلافو په نزد په دغه كې فجر، ظهر، او عصر درېواړه لمونځونه داخل.

له ﴿وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيْلِ﴾ څخه فقط عشاء يا مغرب او عشاء دواړه مراد دي، ابن كثير «رحمه الله» دغه احتمال ليكلی دی، چې له ﴿طَرَفَىِ ٱلنَّهَارِ﴾ څخه فجر او عصر او ﴿وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيْلِ﴾ څخه به تهجد مراد وي، ځكه د اسلام په ابتدا كې همدغه درې واړه لمونځونه فرض شوي وو، وروسته د تهجد فرضيت منسوخ شو، او د پاتې دوو سره د ددې نورو وقتونو تزييد وكړ شو، والله أعلم.

﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾ يعنې د لمونځونو قائمول د الله تعالى يادونه ده، لكه چې په بل ځاى كې يې فرمايلي دي: ﴿وَأَقِمِ الصَّلَوٰةَ لِذِكْرِي﴾ يا دا مطلب چې د ﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾ ضابطه د ياد كوونكو لپاره د يادونې ځيز دى، چې ښايي له سره ونه هېراوه شي، ځكه له دې ځنې مؤمن ته د نېكيو په لوري خاص ترغيب كېږي.

وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿١١٥﴾

او صبر وكړه (اى محمده په طاعت او مصيبت او له معصيت)، نو بېشكه چې الله نه ضايع كوي ثواب د نېكي كوونكو.

تفسير: په قرآنكريم كې له غور كولو څخه ظاهريږي چې د الله تعالى په امداد او اعانت حاصلولو كې دوو شيانو ته خاص دخل دى، «صلاة او صبر» ﴿وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَوٰةِ﴾ (د «البقرة» سورت (۱۵۳) آيت (۱۹) ركوع).

دلته يې هم وروسته له «صلاة» نه د صبر حكم فرمايلى دى، مطلب يې دا دى چې مؤمن دې د الله تعالى په عبادت او اطاعت كې مستقيم اوسي، او د هيڅ درد او رنځ پروا دې ونه كړي، نو هلته د الله تعالى مرسته او نصرت ورحاصليږي، د ده په لوى دربار كې د هيڅ يوې نېكى اجر نه ضايع كېږي، بلكه زيات له اندازې څخه هم وررسېږي.

فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُولُو بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْ ۗ وَاتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا مَا أُتْرِفُوا فِيهِ وَكَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿١١٦﴾

نو ولې نه وو (يعنې نه وو) له اهله د هغو زمانو چې وو پخوا له تاسې نه خاوندان د فكر او عقل چې منع كول يې (خلق) فساد نه په ځمكه كې (چې عذاب پرې نه وو راغلى)، مګر چې منع وكړه لږ له هغو خلقو نه چې خلاص كړل مونږ (دوى) له عذابه د هغو پخوانيو څخه (ځكه چې نهي عن المنكر به يې كول)، او متابعت وكړ هغو كسانو چې ظلم يې كړى وو (په فساد يا تركك د نهي سره) د هغې لارې چې آسوده كړى شوي وو دوى په هغې كې، او وو دوى ګنهګاران كافران.

تفسير: د پخوانيو امتونو حال يې راواوروه، او مونږ محمدي امت ته يې ترغيب او تشويق راكړ، چې په مونږ محمديانو كې «امر بالمعروف» او «نهي عن المنكر» كوونكي ښايي چې ډېر وي، پخواني اقوام ځكه تباه او فنا شول، چې په عمومي ډول سره خلق د عيش او عشرت په نشو كې مست او بې خبر شول، او د جرائمو په ارتكاب كې معتاد (روږدي) شول، او هغو لويو بااثرو سړيو چې په دوى كې لږ څه د خير اثر باقي وو، له دغو منكرانو له ممانعته ستركې پتې كړې، او هيڅ به يې ورته نه ويل، او په دې ډول له كفر او طغيانه او ظلمه او عصيانه د دنيا اخلاقي حالت داسې خراب شوى وو، چې د هغه اصلاح كوونكي هيڅوك نه وو، څو تنو شمېرليو شويو سړيو اګر كه د «أمر بالمعروف» لپاره خپل غږ پورته كړ، مګر په نغاره خانه كې څوك د طوطي غږ اورېدى شي، نتيجه يې داسې شوه؛ چې منع كوونكي له عذابه محفوظ پاتې شول، او نور ګرد قوم سره تباه او فنا شول.

وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرَىٰ بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ ﴿١١٧﴾

او له سره نه دى رب ستا (اراده كوونكى د دې) چې هلاك كړي (اهل د) قريو په ظلم او كفر سره حال دا چې وي اهل د دغو قريو (نېكان اصلاح راوستونكي) مصلحان.

تفسير: يعني د هغو ښارونو او کليو خلق چې خپل حالت ښه کړي، او د اصلاح په لوري متوجه شي، او نېکۍ ته رواج ورکړي، او د ظلمه او فساده ځانونه وژغوري (وساتي)، نو د قدوس الله شان دا نه دی چې خامخا دوی بالجبر ونيسي، او هلاک يې کړي، عذاب هلته نازليږي چې خلق په کفر او عصيان يا ظلم او طغيان کې له حده تېر شي.

وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ ﴿١١٨﴾ إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ ۚ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ ۗ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١١٩﴾

او که اراده فرمايلي وی رب ستا نو هرومرو (خامخا) به يې ګرځولي وو دا خلق ټول سره امت يو (متفق په ايمان او طاعت) او همېشه به وي دوی اختلاف کوونکي (په دين کې). مګر هغه څوک چې رحم پرې وفرمايي رب ستا (او له اختلافه يې وساتي)، او لپاره د دې (اختلاف او رحمت) پيدا کړي دي الله دوی، او تمامه پوره شوه کلمه د رب ستا چې خامخا ډک به کړم هرومرو (خامخا) دوزخ له پېريانو او انسانانو سره ګډه.

تفسير: يعني لکه چې څو ځلې پخوا له دې نه ليکلي شوي دي، د الله تعالى تکويني حکمت د دې خبرې مقتضي نه دی؛ چې ګرده دنيا يو شانې پر يوې لارې برابره کړي، نو ځکه د حق په قبلولو او نه قبلولو کې همېشه اختلاف دی، او اختلاف به وي، مګر في الحقيقت اختلاف او افتراق غورځوونکي هغه کسان دي چې هغوی د صاف او صريح فطرت په خلاف حق ته د دروغو نسبت کوي، که د فطرت سليمه سره ګرد سم تلل؛ نو هيڅ اختلاف به په منځ کې نه پيدا کېده، نو ځکه يې په ﴿إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ﴾ سره تنبيه وفرمايله چې پر هغه کسانو چې الله تعالى د دوی د حق منلو په برکت رحم کړی دی، هغوی له اختلاف کوونکو څخه مستثنى دي.

﴿وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ﴾ الآيه ـ او لپاره د دې اختلاف او رحمت پيدا کړي دي الله دوی، يعني د دنيا له پيدا کېدلو څخه همدغه غرض دی، چې د الله تعالى د هر قسم د «جلاليه وو» او «جماليه وو» صفاتو ظهور وشي، نو ځکه د مظاهرو اختلاف ضروري شو، څو يو جماعت خپل لوی څښتن (مالک) ته خپله وفاداري او اطاعت ورځرګند کړي، او د ده د رحمت او کرم او رضوان او غُفران مظهر وګرځي، چې د ﴿إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ﴾ مصداق دی، او بل جماعت د خپل بغاوت او غداری په سبب د الله تعالى د عدل او انتقام د صفت مورد جوړ شي، او د حبس دوام سزا وګالي (برداشت کړي)، او پر هغو باندې د الله جل جلاله هغه خبره پوره شي چې ﴿وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ﴾ ده.

وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَ ۚ وَجَآءَكَ فِى هَٰذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٢٠﴾

او دا ټول اخبار لولو مونږ پر تا (ای رسول الله) له احوالو د تېرو رسولانو هغه چې کلکوو قوي مطمئن کوو مونږ په هغو سره زړه ستا (په تزييد د يقين سره) او راغلي دي تاته په دغو اخبارونو کې حق (رښتيا) او موعظه (پند) او يادونه لپاره د مؤمنانو.

تفسير: مخکې د ډېرو انبياوو او رسولانو قصې مذکورې شوې، اوس د سورت په خاتمه کې د دغو قصو د ذکر په ځينو حکمتونو تنبيه فرمايي، يعني د پخوانيو اقوامو او رسولانو د واقعاتو له اوربدلو څخه د رسول عليه السلام زړه لا زيات ساکن او مطمئن کيږي، او محمدي امت ته داسې تحقيقي خبرې معلوميږي، چې په کې د نصيحت او تذکير لوی وسائل شته.

انسان کله چې اوري چې زما نور نوعي ابناء په پخوانيو زمانو کې په دغه او هغه جرم سره هلاک شوي دي؛ نو د هغوی څخه د ځان ساتلو په فکر کې لويږي، او کله چې ګوري چې د هغې لارې له غوره کولو څخه هغو ډومبنيو اقوامو نجات موندلی دی؛ نو طبعا هم هغه لوري ته ځغلي.

وَقُلْ لِّلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنَّا عَامِلُونَ ﴿١٢١﴾ وَانتَظِرُوا إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴿١٢٢﴾

او ووايه (ای محمده !) هغو کسانو ته چې ايمان نه راوړي چې عمل وکړئ پر ځای خپل (په حال د شرک خپل)، بېشکه مونږ هم عمل کوونکي يو (په حال خپل چې اسلام دی). او انتظار کوئ (عاقبت د کار ته)، بېشکه مونږ هم انتظار کوونکي يو (عاقبت د کار ته).

وَلِلَّهِ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَإِلَيْهِ يُرْجَعُ الْأَمْرُ كُلُّهُ فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٢٣﴾

او خاص الله لره دی (علم په) پټو د اسمانونو او (په پټو د) ځمکې، او خاص همده ته ښه ګرځولی شي امر (کار د بندګانو) ټول، نو عبادت کوه د الله (چې مرجع د ټولو دی) او توکل وکړه پر الله، او نه دی رب ستا بې خبره د هغو کارونو څخه چې کوئ يې تاسې.

تفسير: يعنې تاسې د دوی له کفر او شرارت څخه مه غمجن کېږئ ! او په خپل تبليغ او دعوت کې لګيا اوسئ ! او د دوی فيصله هغه پاک الله ته ور وسپارئ ! چې ترې د ځمکې او اسمان هيڅ يوه پټه او ښکاره او وړوکې او لويه خبره نه ده پټه، او د ګردو معاملاتو ښه ترتګ او رجوع همده ته کېږي، نو هلته به دوی ګرد سره وپوهيږي چې څرنګه په خبط او خطا کې لويدلي او سخت تېروتلي دي، تاسې خو د زړه له کومي په اخلاص او عقيدت سره د پاک الله په اطاعت او عبادت کې مشغول اوسئ ! او يواځې د همده په اعانت، اعتماد او توکل وکړئ !، ځکه چې الله جل جلاله ستا له دغو مخلصانه وو اعمالو څخه بې خبر نه دی، او سم له هغه سره به مناسبه معامله درسره کوي.

په حديث کې راغلي دي چې لويو اصحابو رضوان الله تعالى عليهم أجمعين سوال وکړ: «يا رسول الله ! پر تاسې د زوړتوب آثار ډېر ژر راښکاره شول؟» نو رسول الله مبارک وفرمايل: «شيبتنی هود وأخواتها»، «د هود سورت او د ده نورو خويندو په زوړتوب کې اچولی يم».

هغه آيت چې ځمونږ پاک رسول يې ډېر زهير او سپينږيرتيا ته نژدی کړی دی؛ دا دی: ﴿فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا ۚ إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾

رزقنا الله سبحانه وتعالى الاستقامة على دينه وسنة نبيه صلى الله تعالى وسلم عليه وعلى آله الكرام وأصحابه العظام.

تمت سورة (هود).

سُورَةُ يُوسُفَ

«د (يوسف) سورت مکي دی، پرته له (۱، ۲، ۳، ۷) آيتونو چې مدني دي، (۱۱۱) آيتونه او (۱۲) رکوع لري، په تلاوت کې (۱۲) او په نزول کې (۵۳) سورت دی، وروسته د هود له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر مهربان پوره رحم کوونکی دی.

الٓرٰ ۚ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْمُبِينِ ۝١ إِنَّا أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ۝٢

دا (مخکيني آيتونه چې لوستی کيږي) آيتونه دي د کتاب واضح (چې د هغه من عند الله توب بالکل واضح دی، او پر هغو احکامو او شرائعو يا مواعظو چې هغه مشتمل دی؛ نهايت روښان او صاف دی). بېشکه چې مونږ نازل کړی دی دا کتاب په دې حال کې چې قرآن عربي دی، لپاره د دې چې تاسې پوهه شئ (پرې).

تفسير: يعنې عربي ژبه له ګردو ژبو څخه زياته فصيحه او وسيعه منضبطه او د شوکته ډکه او باشانه ژبه ده، د قرآن د نزول لپاره منتخبه شوې ده، کله چې رسول الله مبارک ذاتاً عرب دی؛ نو ښکاره ده چې په دنيا کې به رومبی مخاطب عرب وي، بيا د عربو په ذريعه د دنيا په ځلورو خواوو کې دغه رڼا خپره (خوره) شوه، د همدې په لوري په ﴿لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾ کې يې اشاره فرمايلې ده، چې ستاسې په ژبه د قرآن د نزول يوه وجه دا ده، تاسې چې د رسول الله مبارک قوم يئ، اول د ده د علومو او معارفو خوند وځکئ ! او بيا يې نورو ته وروځکوئ ! لکه چې همداسې هم وشو.

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ هَٰذَا الْقُرْآنَ ۖ وَإِن كُنتَ مِن قَبْلِهِ لَمِنَ الْغَافِلِينَ ۝٣

مونږ بيانوو (لولوو) پر تا باندې ډېره ښه قصه له ټولو قصو (ځکه چې خاوند يې ښه دی) په سبب د وحي ځمونږ تاته دغه قرآن، او بېشکه شان دا دی چې وې ته پخوا (له نزوله) د دې قرآن خامخا له ناخبرانو (په دې قصې).

تفسير: يعنې د همغې وحي په ذريعه چې د قرآنکريم په صورت پر تا نازليږي؛ مونږ يو نهايت ښه بيان پر حسين طرز سره تاته اوروو، چې له هغه ځنې تر اوسه پورې ته هم لکه د خپل قوم بې خبره وې.

مفسرينو د دې سورت په شان نزول کې څو روايتونه نقل کړي دي، چې د ګردو له يو ځای کولو څخه دا معلوميږي، چې يهودانو د مکې معظمې د مشرکانو په ذريعه ځمونږ له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه امتحاناً داسې پوښتنه وکړه، چې ابراهيم عليه السلام او د ده ځامن خو په شام کې اوسېدل، نو بيا بني اسرائيل مصر ته څرنګه ورسېدل؟ چې په هغه کې د موسى عليه السلام او د فرعون مقابلې ته وار ورسېد، امکان لري چې مسلمانان هم د داسې يوې ښې مفصلې تاريخي واقعې اوربدلو ته مشتاق وي، چې له بصائرو او عبرتونو ځنې ډکه وي.

له بل لوري د دې قصې په ضمن کې د هغو احوالو او حوادثو چې تذکره کېدونکې وه؛ هغه له څو جهاتو د نبي کريم صلى الله عليه وسلم او د ده د قوم له حالاتو سره مشابهت درلود، چې د هغه ذکر د رسول الله مبارک په حق کې

د تسکین او اطمینان موجب او د دوی د قوم په حق کې د پند او عبرت سبب وو، د دغو وجوهو لامله دغه پوره واقعه په بسط او تفصیل سره قرآنکریم بیان وفرمایله، څو سائلینو ته معلوم شي، چې اسرائیل یعنې یعقوب علیه السلام او د ده د اولادې د راتګ سبب له شامه مصر ته د یوسف علیه السلام واقعه ده، چې بیا هملته یې نسل منتشر او خور شو، تر هغه چې موسی علیه السلام راغی، او دوی ته یې د فرعون او قبطیانو له غلامی څخه نجات ورکړ.

إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سَاجِدِينَ ۝۴

(یاد کړه) هغه وخت چې وویل یوسف پلار خپل (یعقوب) ته: ای پلاره ځما ! بېشکه چې ما ولیدل (په خوب کې) یوولس ستوري او لمر او سپوږمی، ولیدل ما دوی چې ماته سجده کوونکي وو.

قَالَ يَا بُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُؤْيَاكَ عَلَىٰ إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُوا لَكَ كَيْدًا ۖ إِنَّ الشَّيْطَانَ لِلْإِنسَانِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ۝۵

وویل (یعقوب): ای بچوړیه ځما ! مه بیانوه خوب خپل وروڼو خپلو ته؛ نو حیله به وکړي دوی (هلاک ستا) ته په حیله کولو سره، بېشکه چې شیطان انسان ته دښمن دی ښکاره (نه چې د دوی په زړونو کې کینه واچوي تاته).

تفسیر: یعنې شیطان هر وخت انسان ته په پټونې کې ناست دی، او په زړونو کې وسوسې ورآچوي، وروڼه به ستا په خلاف درته پورته کوي، ځکه چې د ده د خوب تعبیر ډېر ظاهر وو، او د یوسف علیه السلام وروڼو ته چې په هر حال د نبوّت له کورنی ځنې وو؛ د داسې یوه واضح خوب په تعبیر پوهېدل دومره مشکل نه وو، چې یوولس ستوري یې یوولس وروڼه دي، او سپوږمی او لمر مور او پلار یې دي، ګواکې دوی ګرد به په کوم وخت کې د یوسف علیه السلام د شان د عظمت په مقابل کې سرونه ښکته کوي، لکه چې د دې سورت په آخر کې ﴿وَقَالَ يَا أَبَتِ هَٰذَا تَأْوِيلُ رُؤْيَايَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا﴾ په ویلو سره یې دغه لوري ته اشاره وکړه.

معلومیږي چې یعقوب علیه السلام له دې خوبه پخوا همدغه خبره محسوسه کړې وه، چې له یوسف علیه السلام سره یې خصوصي محبت کاوه، چې د هغه له لیدلو څخه د ده علاتي وروڼه پټ په زړونو کې سره سوځېدل، او له ده سره به یې رڼې (کینې) کولې، نو ځکه یعقوب علیه السلام ته داسې یو خیال پیدا شو، که هغوی دغه خوب واوري؛ نو لا د حسد او رڼې اور کې به د دوی زړونه وسوځي، او شیطان به د دوی په زړونو کې لا د حسد او رڼې لمبې بلې او اوچتې کړي، امکان لري چې دوی داسې حرکت وکړي؛ چې په هغه کې د یوسف علیه السلام اذیت او پخپله د دوی د رسوایی او بدانجامی موجب وي، نو ځکه یعقوب علیه السلام یوسف علیه السلام منع کړ، چې خپل خوب دې نورو وروڼو ته مه ښکاره کوه، تر دې چې یوسف علیه السلام ته یې اجازه ور نه کړه چې خپل سکه ورور «بنیامین» ته هم د هغه خوب ذکر وکړي، اګر که له هغه ځنې د کومې خرابی اندېښنه نه وه، لیکن ممکن وو، چې هغه یې په بې احتیاطی سره نورو ته ووایي، او په دې ډول دغه خبره په خلقو کې خوره او شائع شي.

وَكَذَٰلِكَ يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَعَلَىٰ آلِ يَعْقُوبَ كَمَا أَتَمَّهَا عَلَىٰ أَبَوَيْكَ مِن قَبْلُ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝۶

او همدارنګه (چې ته په دغه خوب سره غوره شوی یې) غوره به کړي تا رب ستا، او وبه ښیي تاته له ګرځولو دخبرو (خپلو ځایونو ته لکه تعبیر د خوبونو، بیان د کتابونو یا حقیقت دخبرو)، او

پوره به کړي نعمت خپل پر تا او پر (نورې) کورنۍ د يعقوب (په نبوّت) لکه چې پوره کړی يې دی دا نعمت پر دوو پلرونو ستا پخوا له تانه چې ابراهيم دی او اسحاق دی، بېشکه چې رب ستا ښه عالم دی (پر ټولو احوالو)، ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: يعنې همداسې چې دغه خوب يې دروښود؛ همغسې محض د خپل رحمت په جاذبه سره د خپل قرب په دربار کې تاته خصوصاً مقام عطا فرمايي، لکه چې نبوت يې درعطا کړ، او په راز راز ظاهري او باطني مهربانيو سره يې وپاللې.

﴿وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ﴾ مثلا د رؤياوو تعبير يعنې چې د خوب پېښه واورې، او د هغه اجزاء پخپل ذهانت او فراست پخپل ځای کې ولګوې، يا د هرې خبرې په محل او موقع پوهېدل، او د معاملاتو پر عواقبو او نتائجو پوهېدل، سم له لاسه يې سنجول (حل کول)، يا د پاک الله او انبياء الله ارشادات او د اقوامو او د اممو د قصو او د منزله وو کتابونو د مضامينو تر ژورو معانيو پورې رسېدل؛ دغه ګرد شيان د ﴿تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ﴾ لاندې مندرج کېدی شي.

﴿كَمَا أَتَمَّهَا عَلَىٰ أَبَوَيْكَ﴾ يعقوب عليه السلام تواضعاً خپل نوم وانه خيست، او د خپل پلار اسحاق او د هغه د پلار ابراهيم عليهما السلام ذکر يې وفرمايه، الله تعالى ابراهيم عليه السلام خپل نبي ګرځولی وو، او د ده دښمن نمرود يې هلاک کړ، او د اور شعلې يې پرې ګلزارې کړې، اسحاق عليه السلام ته يې نبوّت ورعطا کړ، بيا د ده له صلبه يې د يعقوب عليه السلام په شان يو نبي پيدا کړ، چې له هغه څخه د بني اسرائيلو د ګردو انبياوو سلسله پيدا شوې ده، په صحيح حديث کې راغلي دي: «الكريم ابن الكريم ابن الكريم يوسف بن يعقوب بن إسحاق بن إبراهيم».

لَّقَدْ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخْوَتِهِ آيَاتٌ لِّلسَّائِلِينَ ﴿٧﴾

خامخا په تحقيق چې وو په (قصې د) يوسف او ورونو د ده کې دلائل (د قدرت د الله او نبوت ستا) لپاره د پوښتنو کوونکو.

تفسير: يعنې هغه خلق چې د داسې واقعاتو پوهېدلو پسې ګرځي، او کومې نتيجې پورې رسېدل غواړي؛ هغوی ته د يوسف عليه السلام او د يوسف عليه السلام د ورونو په قصه کې د هدايت او عبرت لوی دلائل شته، د دې قصې له اوربدلو څخه په زړونو کې د الله تعالى د عظيم قدرت او حکمت نقش کلک ټينګيږي، او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د صداقت ښکاره ثبوت په لاس رائي، چې دوی سره له اميتوبه، او بې له کومه معلمه يا کتابه يا نورو څخه د استفاده کولو داسې منقح او منضبطه تاريخي حقائق انکشاف فرمايي، چې د هغو د بيان توجيه غير له رباني اعلامو په بل شي نشي کېدی، خصوصاً د مکې قريشو ته چې د يهودانو په لمسون د دغې قصې په متعلق له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې پوښتنې کولې، په دغې واقعې کې ډېر لوی عبرت ښوونکی درس دی.

إِذْ قَالُوا لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰ أَبِينَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٨﴾ اقْتُلُوا يُوسُفَ أَوِ اطْرَحُوهُ أَرْضًا يَخْلُ لَكُمْ وَجْهُ أَبِيكُمْ وَتَكُونُوا مِن بَعْدِهِ قَوْمًا صَالِحِينَ ﴿٩﴾

(ياد کړه) هغه وخت چې وويل ورونو د يوسف يو بل ته: خامخا يوسف او ورور يې (بنيامين) ډېر ګران دي پلار ځمونږ ته له مونږ ځنې، حال دا چې مونږ ډله يو قوتناکه، بېشکه پلار ځمونږ خامخا په خطا ښکاره کې دی. (نو پر دغه خبره يې سره ترون وکړ): ووژنئ يوسف يا يې وغورځوئ تاسې هغه په کومې ځمکې (لرې) کې، چې وزګار (او خالص) شي تاسې ته مخ د پلار ستاسې، او شئ به تاسې وروسته له دې (کار) يو قوم صالحان.

تفسير: يعقوب عليه السلام له يوسف عليه السلام او د ده د عيني ورور «بنيامين» سره زيات محبت کولو، ځکه چې دوی دواړه له خپلو علاّتي ورونو ځنې وړوکي وو، او د دوی مور هم وفات شوې وه، او خاص د يوسف عليه السلام په نسبت د فراست له نوره، يا له رباني الهامه پوهېدلی وو، چې د ده مستقبل ډېر رون او ځلېدونکی دی، او د نبوّت د کورنۍ سلسله د ده له ذاته سره تړلې ده.

او پخپله د يوسف عليه السلام ښايسته صورت او سېرت، ظاهري او باطني کمالاتو د ده د لوی پلار خصوصي محبت خپل لوري ته ورجذباوه، حال دا چې هغه وضعيت پر نورو ورونو ډېر سخت تېرېده، دوی به سره ويل چې: د ضرورت په وخت کې د کار سړي خو مونږ يو، او ځمونږ ډله د قوت او قدرت خاونده چې د پلار د ضعيفۍ په وخت کې هم په کار ورتلی شو، له دغو وړوکو هلکانو ځخه هيڅ هيله او اميد نشي کېدی، نو د همدغو خيالاتو په اثر د خپل لوی پلار په نسبت به يې ويل چې: دی په دغه معامله کې په سخته غلطۍ او صريحه خطا کې دی، او د خپلې نفعې او نقصان صحيحه موازنه نه کوي.

﴿إِقْتُلُوا يُوسُفَ﴾ الآيه ـ يعنې د حسد او رڅې (کينې) اورونه د دوی په زړونو کې دننه لګېدل، بالآخر دوی پخپلو منځونو کې سره مشورې وکړې، چې د يوسف عليه السلام په موجوديت کې امکان نه لري؛ چې د خپل لوی پلار خصوصي محبت او توجّه مونږ خپل لوري ته کش کړی شو، نو ځکه ښايي چې د يوسف عليه السلام خبره همدلته پای ته ورسوو، يا خو دې ووژلی شي، يا دې په کوم لري ملک کې وغورځاوه شي، چې له هغه ځايه بېرته رانشي، کله چې دی نه وي؛ نو د پلار ګرده توجه به ځمونږ په لوري متوجه کېږي، او د ده د ګردو مهربانيو يواځې مونږ حقداران پاتې کېږو، د «بنيامين» معاملې ته دوی غالباً څه اهميت نه ورکولو، لکه چې د هغه محبت يې د يوسف عليه السلام د محبت ضميمه ګڼلې.

﴿وَتَكُونُوا مِنْ بَعْدِهِ قَوْمًا صَالِحِينَ﴾ يعنې يو ځلې د قتل او نورو ګناهونو ارتکاب واقع کېږي، او وروسته د هغه له فراغته بيا به توبه کوو، او ښه نېک سړي به کېږو، يعنې هم په رندانو کې رند حسابېږو، او هم جنت به له لاسه نه ورکوو، ځينو مفسرينو د ﴿وَتَكُونُوا مِنْ بَعْدِهِ قَوْمًا صَالِحِينَ﴾ معنی داسې اخيستې ده: چې وروسته له يوسف عليه السلام ځمونږ ګرد کارونه پخپله ښه کېږي، ځکه چې د لوی پلار د شفقت لاس له يوسف عليه السلام ځخه لنډ او مايوس کېږي، او يواځې ځمونږ پر سرونو به راکش کېږي.

قَالَ قَائِلٌ مِنْهُمْ لَا تَقْتُلُوا يُوسُفَ وَأَلْقُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ إِنْ كُنْتُمْ فَاعِلِينَ ﴿۱۰﴾

وويل يوه ويونکي له دوی ځخه چې: مه وژنئ يوسف (چې لويه ګناه ده) او (بلکه) وغورځوئ تاسې هغه په تياره ښخ د ګمنامي کوهي کې چې وايي خلي ځينې تېريدونکي (د لارې چې کوم لرې ملک ته يې يوسي) که يئ تاسې کوونکي (د دې بېلتون).

تفسير: داسې ويونکی «يهودا» وو، يعنې وژل يې لويه ګناه او غټه خبره ده، او ځمونږ مقصد يې له قتله هم حاصلېدی شي، که تاسې د يوسف عليه السلام بېلتون له دې ځايه غواړئ؛ نو آسان صورت يې دغه دی، چې له کلي ځخه يې لرې په کوم تياره ګمنامه کوهي کې وغورځوئ، پس دوی ټول سره په دې متفق شول، او پلار ته راغلل.

قَالُوا يَا أَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأْمَنَّا عَلَى يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُ لَنَاصِحُونَ ﴿۱۱﴾

نو وويل دوی: ای پلاره ځمونږ ! څه باعث دی تا لره چې امين نه ګرځوې ته مونږ پر يوسف باندې حال دا چې بېشکه مونږ ده ته خامخا نصيحت ګران (خير غوښتونکي) يو.

تفسير: له دې نه معلوميږي چې پخوا له دې نه هم دوی داسې غوښتنه له خپله پلاره کړې وه، مګر د دوی زړه مطمئن نه وو، چې يوسف عليه السلام له هغوی سره پرېږدي.

أَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَرْتَعْ وَيَلْعَبْ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴿۱۲﴾

ولېږه دی له مونږ سره صباح (ورځ صحرا ته) چې وخوري ډېرې مېوې او لوبې وکړي، او بېشکه مونږ ده لره خامخا ساتونکي يو (له هر تکليفه).

تفسير: يعنې د داسې پېمخي، ښايسته او قوي هلک ګردې قواوې له کوره کښېناستو څخه له کاره وځي، مناسب دي چې له مونږ سره د پسو د څر لپاره صحرا ته لاړ شي، او هلته د صحرايي ګلانو ښه سيلونه وکړي، او مېوې يې وخوري، او ښې لوبې وکړي، او ټوپونه او منډې ووهي، او وځغلي، او نور ښه جسماني ورزشونه وکړي.

وايي چې د هغوی لوبې منډې وهل او غشي ويشتل وو، او برسېره پر هغو د ووړکيو لپاره تر مناسبې اندازې پورې لکه چې ابو حيان «رحمه الله» ليکي: «لوبې او مستي کول د نشاط او خوښۍ او خوشالۍ سبب دی».

قَالَ إِنِّي لَيَحْزُنُنِي أَنْ تَذْهَبُوا بِهِ وَأَخَافُ أَنْ يَأْكُلَهُ الذِّئْبُ وَأَنْتُمْ عَنْهُ غَافِلُونَ ﴿۱۳﴾

وويل (يعقوب): بېشکه زه چې يم خامخا غمجنوي مې بيول ستاسې دي يوسف لره، او وېرېږم له دې نه چې وبه خوري يوسف لره لېوه حال دا چې تاسې به له ده نه غافلان يئ.

تفسير: يعنې د يوسف عليه السلام بېلتون او له تاسو سره د هغه د تللو تصور ما له حده زيات غمجن کوي، او پر هغه برسېره له دې نه هم وېرېږم چې دی هلک دی، نه چې ستاسې له بې خبرۍ او غفلت څخه کوم لېوه يا بل کوم داړونکی يې در څخه ونه داړي، او ويې نه خوري، ليکي چې په هغې صحرا (بيديا) کې لېوان ډېر زيات وو.

شاه صاحب ليکي: «څرنګه چې دوی وروسته له دې نه د لېوه بهانه جوړوونکي وو؛ نو د همدې لامله د يعقوب عليه السلام په زړه کې هم د لېوه وېره ولوېده».

قَالُوا لَئِنْ أَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّا إِذًا لَخَاسِرُونَ ﴿۱۴﴾

(نو بيا ورونړو د يوسف) وويل: قسم دی که وخوري يوسف لره لېوه حال دا چې مونږ ډله قوتناکه يو؛ نو بېشکه مونږ به په دغه وخت کې خامخا له زيانکارانو څخه يو.

تفسير: يعنې که ځمونږ په شان د يوې قوتناکې ډلې په موجوديت کې ځمونږ وړوکی ورور لېوه وخوري؛ نو وېوهېږئ چې مونږ له کاره وتلي او بېکاره ځلميان يو، او له دغې خبرې ځنې بله کومه خرابه او نقصانمنه خبره به وي چې د لسو قوتناکو ورونړو په منځ کې يو وړوکی هلک د لېوه خولې ته ورسيږي، او که داسې کومه پېښه واقع شي؛ نو البته چې مونږ خپل ګرد شيان له لاسه ورکړي دي.

فَلَمَّا ذَهَبُوا بِهِ وَأَجْمَعُوا أَنْ يَجْعَلُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِأَمْرِهِمْ هَذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿۱۵﴾

نو کله چې بوتلو دوی يوسف لره او اتفاق يې سره وکړ په دې چې وغورځوي دی په تياره بېخ د کوهي کې (نو ويې غورځاوه) او و حيې وکړه مونږ يوسف ته چې ته به خامخا خبر ورکړې دوی ته په کار د دوی چې دغه دی، حال دا چې دوی به نه پوهيږي (چې ته يوسف يې).

تفسير: مفسرينو ډېرې داسې ضمني قصې په داسې درد زياتوونکي او رقت غورځوونکي ډول سره نقل کړي دي، چې د هغو له اوربدلو څخه د تيږې (کټې) زړه هم خوږيږي، او د هغو لوستل سړی ډېر ژړوي، الله خبر چې هغه به تر کومه حده صحيح وي، لوی قرآن د خپل خاص نصب العين په اعتبار دا قسم تفصيلاتو ته زياته اعتناء نه ده کړې، او نه يې د يادولو وړ (لايق) ګڼلي دي، نو دلته هم هغه ټولې ضمني خبرې يې حذف کړې، اخري خبره يې دا راوښوده چې د يوسف عليه السلام وروڼه په لطائف الحيل سره له پلاره ځني يوسف عليه السلام يووړ، او سم له ټرلي شوي قرارداده د هغه کوهي په منځ کې دغورځولو ترتيبات يې نيول، په دغه وخت کې مونږ يوسف عليه السلام ته داسې اشاره وکړه، چې پر هغه باندې له سره نور خلق ونه پوهېدل، چې بيخي مه ويرېره، ځکه چې داسې يو وخت هم راتلونکی دی، چې دغه ګردې چارې به دوی ته ورپه يادوې، او په هغه وخت کې به ته په داسې يو لوړ (اوچت) مقام او لويه مرتبه کې يې چې دوی به دې له سره نشي پېژندلی، يا د عهد د طوالت لامله به دې نشي پېژندلی.

دغه غيبي اشاره په خوب کې شوې يا په ويښه کې؟ د الهام په ذريعه شوې که د پرښتې په وسيله؟ د دغه تفصيل په لوی قرآن کې نشته، البته د ظاهرو الفاظو له ليدلو څخه دا ويلی شو، چې د وحيې راتلل په څلوېښت کلنۍ پورې نه ده موقوفه، ځکه چې د يوسف عليه السلام عمر په دغه وخت کې ډېر لږ وو، والله أعلم.

وَجَآءُوٓ اَبَاهُمۡ عِشَآءٗ يَبۡكُونَ ۝١٦

او راغلل دوی پلار خپل ته ښکا (په تياره کې) چې ژړل يې (په دروغو سره).

تفسير: څو چې دوی خپلو کورونو ته ښه ته راغلل تياره شوه، يا قصداً په تياره کې راغلل، چې د ورځې په رڼا کې د پلار مخ ته کتل دوی ته ډېر مشکل ښکارېده، او د شپې تور ټکری (څادر) تر يوې اندازې پورې د بې حيايۍ، بې رحمۍ او د دروغو ژړا او انګولا څه پرده داري کولی شي.

قَالُواْ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّا ذَهَبۡنَا نَسۡتَبِقُ وَتَرَكۡنَا يُوسُفَ عِندَ مَتَٰعِنَا فَأَكَلَهُ ٱلذِّئۡبُۖ وَمَآ أَنتَ بِمُؤۡمِنٖ لَّنَا وَلَوۡ كُنَّا صَٰدِقِينَ ۝١٧

وويل دوی چې: ای پلاره ځمونږ ! ښکه چې مونږ لاړو مسابقه مو سره کوله (په غشو ويشتلو او ځغښتلو) کې، او پرښود مونږ يوسف (يواځې) په نزد د اسباب خپل؛ نو وخوړ ده لره لښوه، او نه يې ته باور کوونکی مونږ لره (په دې خبرې) او اګر که يو مونږ رښتيني.

تفسير: يعنې مونږ په حفاظت کې هيڅ قصور نه دی کړی، چېرې چې ځمونږ کالي (جامې) او اسباب او نور د کار او د ساتنې وړ شيان ايښي شوي وو، مونږ همغلته يوسف عليه السلام يواځې کښاوه، او مونږ صحرا ته لاړو، چې يو تر بله وړاندې شو، په منډو منډو او غشو ويشتلو کې؛ نو چې لږه شېبه ځمونږ سترګې تري واوښتې، لښوه راغی او يوسف يې له مونږ ځني وتښتاوه، حال دا چې په داسې يوه لږه موقع له سره د داسې احتمال امکان نه وو، چې سم له لاسه لښوه ور ورسيږي، او علی الفور يوسف عليه السلام ښکار کړي.

﴿وَمَآ أَنتَ بِمُؤۡمِنٖ لَّنَا وَلَوۡ كُنَّا صَٰدِقِينَ﴾ يعنې د يوسف په معامله کې لا له ابتداء څخه تاسې پر مونږ بدګمانه يئ، که مونږ تاسې ته بيخي صحيح او رښتيا خبره هم وکړو؛ خو بيا هم تاسې په دغه مخصوصه معامله کې ځمونږ پر خبرو باور په هيڅ شان کوونکي نه يئ.

وَجَآءُوْ عَلٰى قَمِيْصِهٖ بِدَمٍ كَذِبٍ ۭ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ۭ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ۭ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰي مَا تَصِفُوْنَ ۝١٨

او راوړه دوی د پاسه په کمیس د یوسف باندې وینه د دروغو، نو وویل (یعقوب خپلو ځامنو ته چې دا ټول دروغ دي): بلکه ښایسته کړي دي تاسې ته نفسونو ستاسې یو (لوی بد) کار، نو کار ځما صبر جمیل دی (چې په کې هیڅ شکایت ونه کړم خلقو ته)، او الله څخه مدد غوښتلی شي په (تحمل د) هغې (خبرې) کې چې تاسې یې بیانوئ (له هلاکه د یوسف).

تفسیر: یو وځګوړی (چپلی) یا هوسی یا بل حیوان یې ذبح کړ، او د یوسف یو کمیس یې د هغه په وینو سره ولاړه، او هغه یې پلار ته راوړ، او په دغه دروغو وینو سره یې کوښښ کاوه چې د پلار یقین پر خپله دغه خبره راولي چې دغه دی لیوه، یوسف علیه السلام یې داړلی او خوړلی چې کمیس یې په وینو سره لړلی دی.

په رښتیا سره چې «دروغجن د یاد خاوند نه وي» کمیس یې خو په وینو ولاړه، مګر دومره یې خیال ونه کړ، چې هغه کمیس به یې په بې ترتیبۍ سره هم څیرلی او شلولی وی، او بیا یې سره له دغو وینووو خپل پلار ته وړاندې کړی وی.

نو یعقوب علیه السلام په صاف ډول سره وفرمایل چې: دغه ګردې ستاسې حیلې او پلمې (تدبیرونه) او له خپله ځانه جوړې کړې خبرې دي، په هر حال زه جمیل صبر ځان ته اختیاروم، چې په هغه کې نه د بل چا په مخ کې به شکوه او شکایت وکړم، او نه له تاسې څخه د انتقام په کوښښ کې یم، یواځې د خپل پاک الله له درباره غواړم چې په دغه صبر کې ځما مدد وفرمایي، او په خپل غیبي اعانت سره د هغې خبرې حقیقت چې تاسې یې ظاهروئ په داسې شان رابنکاره کړي چې په سلامتۍ سره بیا یوسف علیه السلام سره وګورم.

وَجَآءَتْ سَيَّارَةٌ فَاَرْسَلُوْا وَارِدَهُمْ فَاَدْلٰى دَلْوَهٗ ۭ قَالَ يٰبُشْرٰى هٰذَا غُلٰمٌ ۭ وَاَسَرُّوْهُ بِضَاعَةً ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ۝١٩

او راغله قافله (له مدین چې مصر ته تله) نو ولېږه دوی اوبه راوړونکی خپل، نو (ځوړنده) خوشې یې کړه بوکه خپله (په کوهي کې نو ونښت یوسف په دغې بوکې پورې، کله چې ویې لیده)؛ نو ویې ویل: ای خوشالیه ځما ! چې دا یو هلک دی ډېر ښایسته، او پټ کړ دوی هغه د تجارت د مال په توګه، او الله ښه عالم دی په هغو کارونو چې کول (ورونو د یوسف له بې رحمۍ).

تفسیر: وایي چې تر درې ورځو پورې یوسف علیه السلام په هغه کوهي کې د پاک الله په قدرت خوښ او محفوظ دېره وو، د ده د یوه ورور (یهودا) په زړه کې دغه خبره ولوېده، چې هره ورځ ورته په همغه کوهي کې ډوډۍ ورسوي، او برسېره په هغه نورو ورونو یې هم خبر اخیست، چې هلته مړ نشي، او د کوم بل ملک مسافر یې ترې وباسي، او له ځان سره یې بوځي، او ځمونږ له منځه دغه اغزی ورک شي، رښتیا ده چې «دغلیمانو (دښمنانو) په سترګو اغزی ښکاري ګل».

بالآخر له مدین څخه یوه قافله د مصر په لوري تله، کله چې د دغه کوهي له خوا تېرېده، او د هغوی نظر پر هغه کوهي ولوېد؛ نو یو سړی یې د اوبو اخیستلو لپاره ورولېږه، ده چې خپله بوکه وغورځوله؛ نو یوسف علیه السلام چې وړوکی هلک وو، ژر په هغې بوکې کې کښېناست او پرې یې په خپل لاس ټینګ ونیو، او له کوهي څخه ووت، کله چې د بوکې کشوونکي سترګې پرې ولګېدې؛ نو د یوسف علیه السلام د حسن او جمال له لیدلو ځنې

له حده تېر خوشاله شو، او ناڅاپه يې له خولې څخه دغه غږ پورته شو چې عجيبه هلک دی، او په ډېر ښه قيمت پلورل (خرڅول) کيږي.

﴿وَأَسَرُّوهُ بِضَاعَةً﴾ يعنې بو که کشوونکي د دغې خبرې له خپلو نورو ملګرو ځنې د پټولو په فکر کې وو، چې که نور پرې خبر شول؛ نو ګرد (ټول) به راسره شريکيږي.

وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍۭ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ ۚ وَكَانُوا۟ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ ﴿٢٠﴾

او وپلوره (خرڅ کړ) دوی هغه (ورور خپل) په پيسو ناکارو سره چې يو څو روپۍ وې شمېرلې شوې (لرې)، او وو دوی په حق د يوسف کې له بې رغبتانو.

تفسير: يعنې د يوسف عليه السلام ورونه خبر شول، چې قافلې يوسف عليه السلام له کوهي څخه وويست، او له ځان سره يې بوته، نو ژر ورپسې ورغلل، او دا يې ورښکاره کړه چې دغه ځمونږ مريي دی، چې په تېښته سره راغلی دی، ځرنګه چې د ده عادت دی چې تل تښتي؛ نو ځکه مونږ نه غواړو چې وروسته له دې نه يې وساتو، که يې پېرئ (اخلئ) نو پېرودلی (اخيستلی) يې شئ، مګر ډېر کلک يې وساتئ چې چېرې درڅخه ونه تښتي، وايي چې په اتلسو درهمو يا په لږ څه ډېرو يا کمو يې خرڅ کړ، نو د هر يو ورور په سر دوه دوه درهمه ورورسېدې، يو ورور يې چې (يهودا) نوميده؛ هيڅ برخه يې وانه خيسته.

﴿وَكَانُوا۟ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ﴾ (او وو دغه ورونه په باب د يوسف کې له بې رغبتانو، يا وو دغه کاروانيان په باب د يوسف کې له بې رغبتانو له جهته د بې فرمانۍ او د تېښتې د ده)، يعنې له دومره ارزانو پلورلو څخه مه متعجب کېږه ! دوی له يوسف عليه السلام څخه دومره بېزاره وو، چې که ويږيا يې ور پرېښي وی خو لا هم مستبعد او لرې ترې نه وو، هومره پيسې چې د دوی په لاس ورغلې؛ هغه يې غنيمت وګڼلې.

ځينې مفسرين وايي چې په دغه آيت کې د هغه پلورلو ذکر دی؛ چې د قافلې خاوندانو وروسته د مصر له رسېدلو څخه وکړل، که داسې وي؛ نو ويلی شو چې د لويدلي ځيز قدر يې ونه کړ، او له دغې اندېښنې څخه چې بيا څوک پرې دعوی ونه کړي، او هم د تښتېدلو عيب يې اورېدلی وو؛ نو ځکه يې په ارزان قيمت وپلوره، والظاهر هو الأول، والله أعلم.

وَقَالَ ٱلَّذِى ٱشْتَرَىٰهُ مِن مِّصْرَ لِٱمْرَأَتِهِۦٓ أَكْرِمِى مَثْوَىٰهُ عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ أَوْ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدًا ۚ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِى ٱلْأَرْضِ وَلِنُعَلِّمَهُۥ مِن تَأْوِيلِ ٱلْأَحَادِيثِ ۚ وَٱللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰٓ أَمْرِهِۦ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢١﴾

او وويل هغه سړي (عزيز) چې يې اخيستی وو يوسف او وو له اوسيدونکو د مصر ښځې خپلې ته چې په عزت لره ځای د دغه (يوسف، او ښه قدر او عزت يې کوه !) ښايي چې نفع ورسوي مونږ ته يا به ونيسو مونږ دی ځوی (چې دواړه اولاد نه لرو)، او همداسې (لکه چې نجات مو ورکړ يوسف ته له کوهي څخه او عزيز مو مهربان کړی وو پر ده) ځای او قدرت ورکړ مونږ يوسف ته په ځمکه (د مصر) کې، او وښيو مونږ يوسف ته تعبير د خوبونو، او الله غالب دی په کارونو خپلو (چې هيڅوک يې نشي رد کولی) وليکن زيات خلق نه پوهيږي (په دې).

تفسير: وايي کله چې دغه قافله مصر ته ورسېده، ليلام شروع شو، او د مصر د عزيز پر بولۍ دغه معامله پای ته ورسېده، ده خپلې ښځې زلېخا يا راعيل ته وويل: «چې دغه هلک ډېر غوره محبوب، هوښيار او پوه رابرېښي، نو ښايي چې ته يې

ښه په عزت او احترام او پت وساتي ! او د مريانو په شان سلوک ورسره ونه کړي، کيږي چې وروسته له لوييدو څخه ځمونږ په کار راشي، او خپل کاروبار وروسپارو، يا څرنګه چې اولاد نه لرو، دی د خپل ځوی په ځای ودروو.

﴿وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ﴾ الآيه - يعني مونږ پخپل کامل قدرت او لطيف تدبير يوسف د ده د وروڼو د حسد او رڼې (کينې) له ربړو (تکليفونو) او د کوهي له بندي خانې څخه وساته، او د مصر د عزيز کره مو ورسولو، بيا مو د عزيز په زړه کې د هغه محبت او شفقت وغورځولو، او په دغه ډول مو هغه ته په مصر کې يو معزز ځای ورکړ، او د مصريانو په سترګو کې مو هغه وجيه او محبوب وګرځولو، څو دغه د راتلونکو ترقياتو او اعتلاوو د اساس په منزله وګرځي، او د بني اسرائيلو لپاره د مصر د هستوګنې وسيله شي، له هغه سره دا هم منظور وو، چې د مصر له عزيز سره واوسيږي، او له لويانو او مشرانو سره مجلسونه او ملاقاتونه وکړي، څو د سلطنت په رموزو او اشاراتو وپوهيږي، او د ګردو خبرو پر ځايونو باندې د لګولو او کولو کامله سليقه او تجربه ور حاصله شي.

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٢٢﴾

او کله چې ورسېد يوسف قوت خپل ته نو ورکړ مونږ ده ته حکم او علم، او همداسې جزا (بدل) ورکوو نيکوکارانو ته.

تفسير: يعني څه مهال (وخت) چې د يوسف ګردې قواوې د کمال حد ته ورسېدې، نو د پاک الله له درباره د عظيم علم او حکمت خاوند وګرځېد، نهايت مشکله عقدې (غوټې) يې په خپل رسيدونکي فهم سره حل کولې، په ډېره ښه توګه او پوهه سره يې د خلقو جرګې او جګړې سره جوړولې، پر ديني دقائقو په ښه ډول سره پوهېده، کومه خبره يې چې په ژبه سره ويله، هغه به يې عملاً هم کوله، او نورو ته به يې ورښوولې، د بې عقلانو له اخلاقو قطعًا پاک او صاف وو، په علم الشرائعو پوره ماهر وو، علم الرؤيا او د خوب تعبير د ده مخصوصه برخه وه.

وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا عَن نَّفْسِهِ وَغَلَّقَتِ الْأَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ۚ قَالَ مَعَاذَ اللَّهِ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ ۖ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ﴿٢٣﴾

او طلب د فريب وکړ ده لره هغه (ښځې) چې دغه يوسف په کور د هغې کې وو لپاره د نفس د ده، او کلکې يې پورې کړې ټولې دروازې، او بيا وويل دغې ښځې: هله ژر راشه ته ! زه تا لره يمه، وويل يوسف: پناه نيسم په الله پورې، چې بېشکه عزيز مالک خاوند ځما دی چې ښه يې کړې ده ساتنه ځما، (نو زه به ولې خيانت کوم په اهل د ده کې)، بېشکه شان دا دی چې نيکي نه مومي ظالمان (چې د نېکۍ په ځای بد کوي يا زانيان).

تفسير: يعني د يوسف عليه السلام پر حسن او جمال زليخا مفتونه او مينه شوه، او د زړه وړلو، او مينه کشولو او سد لرې کولو ګرد سامان او اسباب يې ټول کړل، او غوښتل يې چې د يوسف عليه السلام زړه هم بې واکه کړي، د يوه لوري د عيش او نشاط سامان او د نفساني جذباتو د پوره کولو لپاره هر راز سهولتونه او د بل لوري د يوسف عليه السلام شا مدام اوسېدل د زليخا په کور کې او د زليخا انتهايي مينه او محبت او شفقت له ده سره، او په ګوښه (بېله) کوټه کې په خپله د ښځې له لوري په بېتابۍ او بې صبرۍ سره داسې غوښتنه کوله او د خپلو او پردیو د تللو او راتللو ګرد ورونه يې وترل، له بل لوري د ځلميتوب عمر، د قوت زمانه، د مزاج اعتدال، د تجرد ژوندون، دغه ګرد دواعي او اسباب داسې وو؛ چې د هغو له تصادمه او تماسه د ډېرو لويو زاهدانو تقوی هم ګرد ګرد الوځي، مګر هغه څوک چې د پاک الله له طرفه محسن ټاکلی شوی وي، او د علم او حکمت په رنګ سره يې رنګين کړی وي، او د نبوت د عصمت په لوړو (اوچتو) مقامو ختلی وي، نو پر هغه به څوک قدرت او مجال ولري، او څرنګه به د شياطينو په چمبو (فريبونو) کې

راشي، ده يو د «معاذ الله» لفظ ووايه، چې: «په الله پورې پناه نيسم»، سم له لاسه ګرد شيطاني جالونه او د کړې ګرد ولونه وپرانستلی شول، ځکه هر چا چې د الله تعالی پناه ونيوله؛ په هغه د بل هيڅا وار نه چليږي.

تنبيه: ځينو مفسرينو د ﴿إِنَّهُۥ رَبِّيٓ أَحۡسَنَ مَثۡوَايَ﴾ ضمير د الله په لوري راجع کړی دی.

وَلَقَدۡ هَمَّتۡ بِهِۦۖ وَهَمَّ بِهَا لَوۡلَآ أَن رَّءَا بُرۡهَٰنَ رَبِّهِۦۚ كَذَٰلِكَ لِنَصۡرِفَ عَنۡهُ ٱلسُّوٓءَ وَٱلۡفَحۡشَآءَۚ إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُخۡلَصِينَ ٢٤

او خامخا په تحقيق قصد کړی وو دغه ښځی (يوسف) ته (د جماع) او (يوسف) به قصد کړی وی دې ښځې ته؛ که نه وی ليدلی يوسف برهان (قاطع دليل) د رب خپل، همداسې (ساتلی دی مونږ يوسف په عصمت سره) لپاره د دې چې وګرځوو مونږ له ده څخه بد او ناکاره فعل (چې خيانت او زنا ده)، بېشکه دغه (يوسف) له بندګانو مخلصو ځمونږ څخه وو.

تفسير: ځينو مفسرينو د ﴿وَلَقَدۡ هَمَّتۡ بِهِۦ﴾ الآيه ـ داسې ترجمه کړې ده؛ او خامخا په تحقيق ښځې فکر کړی وو د يوسف، او يوسف فکر کړی وو د ښځې، يعنې زلېخا د يوسف عليه السلام د راګېرولو فکر وکړ، او يوسف عليه السلام داسې فکر وکړ چې زه د ښځې د مکر په لومه (دام) کې ونه نښلم، که يوسف عليه السلام د خپل رب حجّت او قدرت نه وی معاينه کړی، نو استقامت او ثابت قدمي به يې مشکله وه.

ځينو مفسرينو ﴿وَهَمَّ بِهَا﴾ يې له ﴿وَلَقَدۡ هَمَّتۡ بِهِۦ﴾ څخه بېل کړی دی، او له ﴿لَوۡلَآ أَن رَّءَا بُرۡهَٰنَ رَبِّهِۦ﴾ سره يې متعلق کړی دی، لکه چې په ﴿إِن كَادَتۡ لَتُبۡدِي بِهِۦ لَوۡلَآ أَن رَّبَطۡنَا عَلَىٰ قَلۡبِهَا﴾ ترکيب کې دی، په دغه وخت مقصود د يوسف عليه السلام په حق کې د «همّ» ثابتول نه، بلکه نفي کول دي، او ترجمه به يې داسې کيږي چې: ښځې د يوسف عليه السلام اراده وکړله، او يوسف عليه السلام به هم د ښځې اراده کړي وی؛ که د خپل رب قدرت او حجّت يې نه وی ليدلی.

«برهان» دليل او حجّت ته وايي، يعنې که يوسف عليه السلام په دغه وخت کې د خپل رب دليل نه وی ليدلی؛ نو پر قلبي ميلان به يې تګ کولو، نه ! نو دليل څه وو؟ د زنا هغه عين اليقين حرمت او شناعت وو چې الله تعالی ورښوولی وو.

وَٱسۡتَبَقَا ٱلۡبَابَ وَقَدَّتۡ قَمِيصَهُۥ مِن دُبُرٖ وَأَلۡفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا ٱلۡبَابِۚ قَالَتۡ مَا جَزَآءُ مَنۡ أَرَادَ بِأَهۡلِكَ سُوٓءًا إِلَّآ أَن يُسۡجَنَ أَوۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٢٥

او سره منډې وهلې دواړو دروازې ته او ځيري کړ (ښځې) کميس د دغه (يوسف) د شا له طرفه او مخامخ شول دوی دواړه مېړه (خاوند) د زلېخا سره دروازې څخه، وويل (زلېخا عزيز ته): چې نه ده جزاء د هغه چا چې اراده يې کړې ده په اهل ستا د بدۍ مګر دا چې بنديي کړ شي، يا عذاب دردناک دی.

تفسير: وړاندې يوسف عليه السلام وو، چې ژر ور وپرانيځي، او د باندې لاړ شي، او وروسته زلېخا د ده په تعاقب کې وه، اتفاقاً د يوسف عليه السلام د کميس وروستنۍ برخه د زلېخا په لاس کې ولوېده، نو ټينګ يې ونيو، او خپل لوري ته يې راکش کړ، په دغه کش او کوک (راښکلو) کې کميس وشلېد، مګر يوسف عليه السلام په هر ډول چې وو له کوټې څخه د باندې ووت، نو له يوې خوا دوی دواړه سره وړاندې او وروسته په دروازه کې ورسېدل، او له بلې خوا د زلېخا مېړه د مصر عزيز هم راورسېد، نو ژر تر ژره زلېخا په خبرو جوړولو خپله خوله وپرانستله، زلېخا الزام پر يوسف واړاوه، چې ده له ما سره د بدۍ اراده کړې وه، نو د داسې سړي سزا ښايي دا وي چې په بنديي خانه کې وغورځاوه شي، يا بل کوم سخت هېداد (سزا) ورته وټاکلی شي.

قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِي عَن نَّفْسِي وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ أَهْلِهَا إِن كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِن قُبُلٍ فَصَدَقَتْ
وَهُوَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿٢٦﴾ وَإِن كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِن دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٢٧﴾ فَلَمَّا رَأَىٰ
قَمِيصَهُ قُدَّ مِن دُبُرٍ قَالَ إِنَّهُ مِن كَيْدِكُنَّ ۖ إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ ﴿٢٨﴾ يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا ۚ
وَاسْتَغْفِرِي لِذَنبِكِ ۖ إِنَّكِ كُنتِ مِنَ الْخَاطِئِينَ ﴿٢٩﴾

وويل (يوسف) چې همدې طلب کړی دی له ما څخه لپاره د نفس ځما (مراد خپل)، او شاهدي ورکړه (يوه تی رودونکي) له کورنۍ د زلېخا څخه (داسې چې ای عزيزه وګوره) که وو کميس د يوسف څيري کړی شوی د مخې له خوا نو رښتيا وايي زلېخا او دغه (يوسف) له دروغجنانو څخه دی. او که وو کميس د دغه (يوسف) څيري کړی شوی د شا له لوري؛ نو دروغ وايي زلېخا او يوسف له رښتيا ويونکو څخه دی. نو کله چې وليد (عزيز) کميس د يوسف چې څيري شوی دی د شا له لوري؛ نو وويل (عزيز) چې بېشکه دغه (يو فرېب دی) له فريبونو ستاسو ښځو څخه، بېشکه فرېب ستاسو ښځو ډېر لوی دی. ای يوسف ! واوړه له دې کاره (او پت د زلېخا وساته، او بيا يې زلېخا ته وويل) او مغفرت وغواړه ګناه خپلې ته، بېشکه چې ته يې له خطاکارانو.

تفسير: اوس نو يوسف عليه السلام ناچاره شو چې اصلي خبره ورښکاره کړي، چې زلېخا اراده کړې وه چې ځما نفس ځما له واکه (اختياره) وباسي، زه وتښتېدم او ځان مې ترې وژغوره (بچ کړو)، دغه جګړه لا پای ته نه وه رسېدلې؛ چې د زلېخا له کورنۍ څخه يو شاهد په عجيبې طريقې سره د يوسف عليه السلام په حق کې شاهدي ورکړه.

له ځينو روايتونو ځنې معلوميږي، چې دغه شاهد يو تی رودونکی هلک وو، چې د الله تعالى په قدرت يې د يوسف عليه السلام د برائت او وجاهت عند الله ښکاره کولو لپاره په غېږدلو پيل وکړ.

او ځينې علماء وايي چې هلک نه وو، بلکه کوم پوه سړی وو، چې داسې يوه پته او نښه يې ور وښوده، والله أعلم.

که شاهد تی رودونکی هلک وو لکه چې په ځينو معتبرو روايتونو کې دي؛ نو په دې صورت هم دغه د يوه تي رودونکي وينا او داسې شاهدي ورکول چې په خاتمه کې د يوسف عليه السلام په حق کې مفيد شي؛ بالاستقلال د يوسف عليه السلام د صداقت دليل وو، د کميس له وړاندې يا له وروسته څيريدلو له شهادته په زائد ډول د يوې علامې او قرينې په شان ښايې وګڼلی شي.

او که کوم پوه سړي وو؛ نو په ښکاره سره داسې معلوميږي چې دی به په خارجي طريقې سره د حال په حقيقت مطلع شوی وي، مګر ده په نهايت پوهې په داسې يو اصول سره شاهدي ادا کړه، چې هغه د بې طرفانو په نزد هم ډېره معقوله وه، ځکه چې که سم د ښځې له دعوی سره (معاذ الله) يوسف عليه السلام د دې په لوري اقدام کړی وی؛ نو د ده مخ به د ښځې په لوري وه، نو ښکاره ده چې په دغه کش کوک کې د يوسف عليه السلام کميس به د مخې له لوري څيري شوی وو.

او که د يوسف عليه السلام وينا صحيحه ده چې ښځې زه خپل لوري ته بللم، او زه د دروازې په لوري وتښتېدم، او دې ځما د نيولو په مقصد ځما تعاقب وکړ؛ نو ښکاره خبره ده چې د ده کميس به د شا له لوري څيري شوی وي، ځکه چې په دغه صورت کې يوسف عليه السلام د دې په لوري له سره متوجه نه وو، بلکه هغې ته يې خپله شا ګرځولې په تېښته وو، په هر حال کله چې وليد شو، چې کميس د مخې له لوري نه، بلکه د شا له لوري څيري کړی شوی وو؛ نو عزيز وپوهېد چې دغه ګرد د ښځې مکر او فرېب دی، يوسف عليه السلام هيڅ قصور نه لري، لکه چې ښکاره يې وويل؛ چې زلېخا دغه ډک له فرېبه چاره له هغه قسمه ده چې عموماً ښځې يې کوي.

نو عزيز له يوسف عليه السلام څخه استدعاء وکړه، چې څه تېر شوي دي؛ هغه هېر کړه ! او وروسته له دې نه د دې خبرې ذکر مه کوه ! چې د سختې رسوايۍ او بدنامۍ موجب دی، او زلېخا ته يې وويل: چې له يوسف عليه السلام څخه يا له الله تعالى د خپل قصور معافي وغواړه ! چې بالیقین همدا ستا قُصور دی.

وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِينَةِ امْرَأَتُ الْعَزِيزِ تُرَاوِدُ فَتَاهَا عَن نَّفْسِهِ ۖ قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا ۖ إِنَّا لَنَرَاهَا فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٣٠﴾

او وويل يو څو ښځو (له خواصو د پاچا) په ښار (د مصر) کې چې: ښځه د عزيز طلب کوي مريي خپل له نفس د ده (مراد خپل)، په تحقيق څيري کړې ده پرده د زړه د دې ښځې له جهته د محبت (د يوسف يعنې ننوتلی دی محبت د يوسف په غلاف د زړه د زلېخا کې)، بېشکه مونږ خامخا وينو زلېخا په ګمراهۍ ښکاره کې (چې خپل مېړه (خاوند) لري او مريي پسې ګرځي).

تفسير: يعنې ورو ورو د ټول ښار په ښځو کې داسې ويناوې شروع شوې، چې د عزيز ښځه پر خپل ځلمي کنعاني غلام مفتونه او مينه شوې ده، او غواړي چې ويې لمسوي، او پر خپل ځان يې وغولوي، او د هغه نفس د ده له واکه وباسي، د دې مريي مينې د هغې د زړه په منځ کې ځاي نيولی دی، حال دا چې د داسې يوه معزز منصبدار ښځې دغسې يو حرکت ډېره د شرم خبره ده، چې دا پر خپل مريي مينه شي، او تر خپل نفساني مقصد وغواړي، ځمونږ په فکر په دغې معاملې کې زلېخا په علانيه غلطي او ښکاره ناپوهۍ کې ده.

فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ أَرْسَلَتْ إِلَيْهِنَّ وَأَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَأً وَآتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّينًا وَقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ۖ فَلَمَّا رَأَيْنَهُ أَكْبَرْنَهُ وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ وَقُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا إِنْ هَٰذَا إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ ﴿٣١﴾

نو کله چې واورېد (زلېخا غيبت) مکر (فرېب) د دوی؛ نو ولېږه (زلېخا يو څوک) دغو (طعنګرو ښځو) ته او تيار يې کړ دغو ښځو ته مجلس (يا مېلمستيا يا بالښتونه چې ډډې پرې واچوي) او ور يې کړې هرې يوې ښځې ته له دغو نه چورکی، او وويل (زلېخا يوسف ته): راووځه په دوی (نو راووت)، نو کله چې وليد دوی دغه (يوسف)؛ نو ډېر لوي ښايسته يې وموند (هک پک پاتې او ځانونه ترې هېر شول)، او غوڅ يې کړل لاسونه خپل او وويل دوی: پاکي ده الله ته (له عجز او نقصانه چې داسې صورت يې هم جوړ کړی دی) نه دی دغه انسان، مګر پرښته ده عزتمنده.

تفسير: د ښځو دغو ويناوو ته ځکه مکر فرېب وايي، چې د مکارانو په شان به يې پټې پټې خبرې کولې، او پر زلېخا به يې بد ويل، ګواکې دوی د خپلې پاکۍ او عفت اظهار کولو، حال دا چې يوسف عليه السلام د بې مثال حسن او جمال شهرت چې د هرې ښځې غوږونو ته رسېده؛ نو هغوی به د ده په ليدلو پسې کړېدې او ترپېدې او پرې ويلېدې.

هيڅ بعيد او لرې نه دی چې زلېخا د طعنو او تنقيد کوونکو اصلي د زړه مقصد همدا وي، چې زلېخا په قهر کړي، او داسې يوه حرکت ته يې تياره کړي، چې د يوسف عليه السلام د ملاقات او ليدلو سبب وګرځي، يا د زلېخا په زړه کې د هغه نفرت واچوي، او هغوی د خپل ځانونو په لوري د هغه د مائل کېدلو موقع را پيدا کړي.

او دا هم ممکن دي چې زلېخا په دغې معاملې کې له ځينو ښځو سره د زړه خبرې کړي وي، او هغوی د دې د دغو پټو او د زړه خبرو د ساتلو په ځای هغه برسېره کړي وي، او په تنقيد او پېغور ويلو به يې لاس پورې کړی وي، په هر حال د دوی د دغو خبرو او اترو څخه په لفظ د «مکر» سره په تعبير کولو کې دغه ټول احتمالات موجود دي.

﴿أَرْسَلَتْ إِلَيْهِنَّ﴾ الآيه ـ «نو ولېږه زلېخا يو څوک دغو طعنګرو ښځو ته»، يعنې ښځو ته يې بلنه وکړه، او مېلمستيا ته يې راغوښتې، او يو مجلس يې ترتيب کړ، چې د هغه د ماکولاتو او خوړو په منځ کې ځينې خواړه داسې هم وو، چې په چړوکيو سره ګرېدل، يا پوټکي به يې تري لرې کېدل، لکه چې د خوړو ګردې (ټولې) مېوې او نورې د دوی په مخ کې واوښتلی شوې، او په ښه ترتيب سره کښېودی شوې، او د هرې يوې ښځې په لاس کې يوه يوه چړوکی ورکړه شوه، څو د تراشولو وړ (لايق) شيانو په خوراک کې د بلې ښځې د انتظار له کلفته بې غمه وي، کله چې دغه ګرد (ټول) شيان يې جوړ او پوره ترتيبات يې ونيول، يوسف عليه السلام ته چې هم هغلته چېرې نژدې موجود وو؛ غږ يې وکړ چې دلته راشه، په مجرد د راتلو د هغه پر ګردو (ټولو) مېلمنو ښځو باندې د برېښنا په شان يو تاثير او حرکت پيدا شو، او ښځې د يوسف د حُسن او جمال له دغې يو ناڅاپي نندارې څخه بيخي بې هوشې او بې حواسې شولې، او د بېهوشۍ په حال کې د مېوو په ځای يې خپل لاسونه پرې کړل.

قَالَتْ فَذٰلِكُنَّ الَّذِي لُمْتُنَّنِي فِيهِ ۖ وَلَقَدْ رَاوَدْتُّهُ عَن نَّفْسِهِ فَاسْتَعْصَمَ ۖ وَلَئِن لَّمْ يَفْعَلْ مَآ آمُرُهُ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا مِّنَ الصَّاغِرِينَ ﴿٣٢﴾

نو وويل (زلېخا دغو ښځو ته) دا همغه ځلمی دی چې ملامته کړې ومه تاسو زه په (محبت د) ده کې، او خامخا په تحقيق طلب کړی وو ما له ده له نفسه د ده؛ نو ځان يې وساته (او ځما مطلب يې ونه کړ)، او قسم دی خامخا که ونه کړي هغه څه چې امر کوم زه ده ته؛ نو خامخا به بندي (قيد) کړی شي هرومرو (لازماً) او خامخا شي به دی له ذليلانو (په دې بنديخانه کې).

تفسير: اوس زلېخا موقع وموندله چې د ښځو د هغو طعنو او تشنيعو غشي ېرته پر هم دوی ورغوځار کړي، ګواکې په دغه وخت کې ﴿فَذٰلِكُنَّ الَّذِي لُمْتُنَّنِي فِيهِ ۖ﴾ په ويلو سره د يوسف صفت وکړو، د دې ټولنې د رنګ او وضعيت له ليدلو سره ځنې زلېخا بيخي ځان له لاسه ورکړ، او د هغې پېښې ګرد واقعات يې په ښکاره ډول سره ټکي په ټکي وويل چې: «بېشکه ما غوښت چې د دې کنعاني ځلمي زړه په لاس راوړم، مګر دغه د پاک الله بنده په داسې ډول سره خپل ځان له ما ځنې وژغوره (وساته) او لاس يې له ما ځنې ووينځه، چې زه ورته حقه حيرانه يمه، او د هغه د عفت او طهارت او قوت بيان تاسې ته له سره نشم کولی» ګواکې الله تعالی د ګرد ښار د خواصو ښځو په ټولنه کې د يوسف عليه السلام د عصمت او عفّت کمال او د نزاهت او طهارت ثبوت يې ور وړاندې کړ.

﴿وَلَئِن لَّمْ يَفْعَلْ﴾ الآيه ـ د زلېخا مقصود په دغو خبرو او اترو کې لږ څه نورو ښځو ته د خپلې معذورۍ او نامرادۍ اظهار وو، څو د هغوی زړه خوږې او همدردي حاصله کړی شي، او لږ څه په تحکمي ډول په وېرولو سره د يوسف عليه السلام مرعوبيت وو، چې هغه وويريږي او وروسته له دې نه د زلېخا په مراد او مطلب کار وکړي.

کله چې دغو ښځو يوسف عليه السلام ته وويل چې امر ومنه د مولاګۍ خپلې، که نه بندي (قيدي) کيږې، او ربړونه (تکليفونه) به تېروې.

قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ ۖ وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُن مِّنَ الْجَاهِلِينَ ﴿٣٣﴾

نو وويل (يوسف): ای ربه ځما ! بندي خانه ډېره خوښه ده ځما له هغه کاره چې بولي دا ښځې ما هغه کار ته، (ای الله وګرځوې مکر، فرېب د دوی له مانه)، او که ونه ګرځوې ته له ما ځنې مکر فرېب د دې ښځو؛ نو ميلان به وکړم زه دوی ته، او بيا به وګرځم (په سبب د دغه ميلان) له جاهلانو.

تفسير: معلومیږي چې زلېخا د غه د مایوسې غوصې، او د مظلومیت ډکې وینا د دې پر نورو هم جنسانو او سیالانو خپل پوره اثر وغورځوه، یا لا له پخوا د دوی په منځ کې سره څه خبرې او اترې به هم شوې وې، په هر حال لیکلي دي، چې په دغه وخت کې ځردو ښځو د یوسف علیه السلام په پوهولو باندې داسې ژبې وپرانستلې: «چې تاته لازم دي، چې د خپلې دغې محسنې او سیدې مېرمنې خبره ومنې ! آخر ته ولې پر دغې غریبې باندې ظلم او تېرى کوې؟ او ښایي چې دغې خبرې ته هم ښه فکر وکړې، چې د دغو غاړه غړولو او خبرو نه منلو نتیجه به تاته خامخا ربړونه اومصیبتونه دروړاندې کړي، او بل هیڅ یوه ځټه درته نه رسوي».

نو یوسف علیه السلام په پوره عزم او استقامت د الله تعالى له درباره غوښتنه او دعاء کوله چې: «یا اله العالمینه ! ما د دوی له مکرونو او فرېبونو ځنې وژغوره (وساته) ! که په دغې سلسلې کې ماته بندي کېدل راپېښېږي؛ نو زه په ډېرې خوشالۍ سره هغې بندیګرۍ ته د معصیت پر ارتکاب ترجیح ورکوم، که ته ځما لاس ونه نیسې؛ نو وېرېږم چې زه به بې عقله شمه، او د دوی دغو لمسولو ته به څه تمایل وکړم».

فَاسْتَجَابَ لَهُ رَبُّهُ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٣٤﴾

نو قبوله کړه ده ته رب د ده (دا دعا) نو ویې ځرځولو له ده څخه فرېب د دوی، بېشکه الله هم دی ښه اوربدونکی ښه عالم دی (په ځردو افعالو).

تفسير: یعنې دی یې په عصمت او عفت په پوره ډول سره ثابت قدم او مستقیم کړ، او د هیچا مکر او فرېب پرې ونه چلېد، او هیڅ اثر یې پرې ونه کړ.

﴿إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ یعنې د ځردو دعاوې ښې اوري، او ترې ښه خبردار او پوه دی، شاه صاحب لیکي: «ظاهرا معلومیږي چې دی پخپلې غوښتنې او دعاء سره بندي شوی دی، لیکن الله تعالى د ده دومره دعا قبوله فرمایلې ده، چې د هغوی فرېب یې ترې دفع کړی، نور بندي کېدل د ده په قسمت کې وو، انسان لره ښایي چې د وېرې په وخت کې د خپل ځان لپاره بدي ونه غواړي، او پوره د نېکۍ سوال دې کوي، اګر که هر څه چې کیږي خو همغه چې په قسمت کې لیکلی شوي دي»، په ترمذي شریف کې راغلي دي چې له یوه سړي څخه رسول الله صلى الله علیه وسلم دغه دعاء واوربده: «اللهم إني أسألك الصبر» «ای الله ! زه له تانه صبر غواړم»، رسول الله مبارک وفرمایل: «سألت الله البلاء فاسأله العافية» «تا له الله تعالى ځنې د بلاء طلب وکړ؛ ځکه چې صبر خو پر بلاء کیږي؛ نو ترې عافیت وغواړه».

ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِنْ بَعْدِ مَا رَأَوُا الْآيَاتِ لَيَسْجُنُنَّهُ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٣٥﴾

نو بیا ښکاره شو دوی ته (یعنې عزیز او تابعانو د عزیز ته) وروسته له هغه چې ولیدل دوی دلائل (د پاکۍ د یوسف) چې خامخا په بندي خانه کې به واچوي هرومرو (خامخا) دی تر یو وخت پورې (چې قطع شي خبرې د خلقو، پس بندي کړ شو یوسف).

تفسير: یعنې سره له دې چې د یوسف علیه السلام د برائت او نزاهت ډېر دلائل یې لیدلي وو؛ بیا هم دوی په دغه کې مصلحت ولید، چې تر یوې مودې پورې یوسف علیه السلام بندي کړي، څو عام وځړي او خلق داسې وځنې چې همدغه یوسف پرې وو، او همغه کمبخته ښځه بې سببه بدنامه شوه، ځواکې هغه تخویف او وېرول چې د زلېخا له لوري په بندیتوب سره ورکړی شوي وو؛ په سر ورسول شو.

وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيَانِ قَالَ أَحَدُهُمَا إِنِّي أَرَانِي أَعْصِرُ خَمْرًا وَقَالَ الْآخَرُ إِنِّي أَرَانِي أَحْمِلُ فَوْقَ رَأْسِي خُبْزًا تَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ نَبِّئْنَا بِتَأْوِيلِهِ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٣٦﴾

او ننوتل له ده سره په زندان کې دوه ځلميان، وويل يو له دې دواړو: بېشکه زه وينم ځان خپل (په خوب کې) حال دا چې نچوړوم انګور لپاره د شرابو، او وويل هغه بل چې: بېشکه زه وينم ځان خپل (په خوب کې) حال دا چې بار کړې مې ده د پاسه په سر خپل ډوډۍ چې خوري مرغان له هغې، خبر کړه ته مونږ په تعبير د دې (هر يوه خوب)، بېشکه مونږ وينو تا له نيکو کارانو (له بنديانو سره، يا د بنديخانې، يا له نبو علماوو د تعبير څخه).

تفسير: يعنې په هم دغو ورځو کې دوه ځلمي بنديان هم په بندي خانه کې واچول شول، چې له دوی ځنې يو د مصر د پاچا ډوډۍ پخوونکی او بل يې ساقي وو، او دواړه په دغه الزام چې پاچا ته د زهر ورکولو اراده يې درلوده بنديان شوي وو، په بندي خانه کې د يوسف عليه السلام د مروءت، امانت، رښتيا ويل، نبه اخلاق، زيات عبادت کول، نبه معرفت، نبه تعبير، له خلق الله سره زړه سوی او نورو محاسنو شهرت او آوازه وه، دغه دواړه بنديان هم له يوسف عليه السلام سره ډېر مأنوس (روږدي) شول، او د ډېر محبت او اخلاق اظهار به يې ورته کولو، يوه ورځ دغو دواړو خپل خوبونه ور اظهار کړل.

قَالَ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِ إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَكُمَا ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّي إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ ﴿٣٧﴾

ووېل (يوسف) چې: لا نه به وي راغلی تاسې ته طعام چې روزي درکوله شي تاسې ته هغه (طعام) مګر چې خبر به کړم تاسې په تعبير د دې خوب پخوا له راتلو (د دې طعام) تاسې ته، دا تعبير له هغه علم نه دی چې نبوولی دی ماته رب ځما، بېشکه ما پرېښې مې دی دين د هغو خلقو چې ايمان نه راوړي پر الله، او حال دا چې دوی په آخرت هم دوی کافران کېدونکي دي.

تفسير: يوسف عليه السلام ډومبی هغوی ته تسلي ورکړه، چې هرومرو د دغو خوبونو تعبير تاسې ته ډېر ژر معلوميدونکی دی، او له دغو هرو ورځو خوړو څخه د مخه چې تاسې ته درکول کيږي، هغه به زه دروښيم، ليکن د خوب د تعبير کولو څخه د مخه يوه ډېره ضروري او مفيده خبره در اوروم، او هغه دا ده چې دغه د تعبير علم او نور ماته له کومه ځايه حاصل شوی؟ نو په ياد يې ولرئ چې زه کوم کسب ګر کاهن يا منجم نه يم، بلکه ځما د علم سرچينه ربّاني وحيه او الهام دی، چې ماته پاک الله دغه علم او کمال ځکه راښوولی دی، چې ما د همېشه لپاره د کافرانو او باطل پرستانو دين او ملت پرې ايښی دی، او د خپلو پلرونو او نيکونو د ابراهيم، اسحاق او يعقوب غوندې انبياوو او مرسلانو د توحيد پر دين ځم، او د هغوی لاره مې ځانته غوره کړېده.

ځمونږ له ګردو خبرو څخه لويه او مقدسه د نظر مطمح همدغه خبره ده، چې د دنيا هيڅ يو ځيز په هيڅ يوه درجه له پاک الله سره شريک ونه ګرځوو، نه په ذات کې، نه په صفاتو کې، نه په افعالو کې، نه په ربوبيت او معبوديت کې، يواځې د هغه په حضور کې سر ښکته کوو، او له هغه سره محبت لرو، او پر هغه باندې توکل او اعتماد کوو، او خپل مرګ او ژوندون او نور ټول همغه پاک الله ته ورسپارو.

په هر حال يوسف عليه السلام مناسبه موقع ليدلې په نهايت مؤثر ډول سره دغو بنديانو ته د ايمان او توحيد په جانب ترغيب او تشويق ورکړ، د انبياوو همدغه کار او عادت دی، چې د دعوت او د حق د تبليغ هيڅ يوه مناسبه موقع له

لاسه نه ورکوي، يوسف عليه السلام وليد چې د دغو قيديانو زړونه ځما په لوري متوجه دي، او هم له ما سره مانوس شوي دي، او د بندیګرۍ په مصيبت کې ګرفتار دي، ښايي چې لږ پاسته او نرم شوي به هم وي، راشه ! په دغه وخت کې ته دې د تبليغ الحق او د دعوت د فرائضو په ادا کولو سره فائده ترې واخله ! ړومبی دوی ته ديني خبرې وروښيه، بيا يې د خوب تعبير ووايه ! دغه تسلي يې خو ورته لا له پخوا څخه ورکړې وه، چې د ډوډۍ تر وخت پورې تعبير به درمعلومیږي، څو دوی د پند او نصيحت له اورېدلو څخه ځانونه ونه باسي، او ښه غوږونه ورته کيږدي.

وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ اٰبَآءِیْۤ اِبْرٰهِیْمَ وَاِسْحٰقَ وَیَعْقُوْبَ ؕ مَا كَانَ لَنَاۤ اَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ ؕ ذٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ عَلَیْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَشْكُرُوْنَ ﴿۳۸﴾

او متابعت کړی دی ما د دين د پلرونو خپلو چې ابراهيم او اسحاق او يعقوب دي، نه ښايیږي مونږ ته چې شريک ونيسو په الله پورې، هيڅ شی په هيڅ ځيز کې، دا (توحيد) له فضل د الله دی پر مونږ باندې او پر نورو خلقو، وليکن زيات له خلقو شکر نه وباسي (په دې راتلو د انبياوو).

تفسير: يعنې ځمونږ خالص توحيد او په ابراهيمي ملت باندې ځمونږ قايم پاتې کېدل نه يواځې ځمونږ په حق کې بلکه د ګرد جهان په حق کې فضل او رحمت دی، ليکن افسوس دی چې ډېر کسان د الله تعالی د دغه لوی نعمت قدر نه کوي، لازم خو داسې وو چې د پاک الله احسان يې منلی وی، او د توحيد په سمه او صافه لاره تللي وی، او بالعکس د کفران او شرک او عصيان لاره يې نه وی غوره کړې، حال دا چې دوی بالعکس د ناشکرۍ، شرک او عصيان لارې خپل ځانونو ته غوره کوي.

یٰصَاحِبَیِ السِّجْنِ ءَاَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ خَیْرٌ اَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۳۹﴾

ای دواړو ملګرو ځما د زندان ! آيا معبودان او پالونکي متفرق (تار په تار) غوره دي که (هغه) الله (غوره دی چې) يو دی (بې له شريک په الوهيت کې)؟ ډېر قوي غالب دی.

مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِلَّاۤ اَسْمَآءً سَمَّیْتُمُوْهَاۤ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّاۤ اِیَّاهُ ؕ ذٰلِكَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۴۰﴾

عبادت نه کوئ تاسې غير له الله مګر د څو نومونو چې نومونه مو ايښي دي د هغو تاسې او پلرونو ستاسې، نه دی نازل کړی (رالږلی) الله په (عبادت د) هغوی کوم برهان حجّت سند، نه دی حکومت (د هيڅا) مګر خاص د الله دی، امر يې کړی دی په دې چې عبادت مه کوئ تاسې مګر د همده، دا (عبادت د ده) دين دی سم (او حق دی ښکاره) وليکن زيات د خلقو نه پوهيږي (په لاره حقه).

تفسير: يعنې خوشې چټې (بېکاره) بې سنده او بې ځايه له خپل ځانه څه نومونه مو ايښي دي، چې تر هغو لاندې د يوې ذرې په اندازه هم څه حقيقت نشته، او تاسې د همدغو تشو نومونو عبادت کوئ، او تش يې په نامه سره معبود بولئ، په داسې جهل او نادانی ښايي چې سړی وشرميږي، يعنې له قديمه راهيسې د انبياوو عليهم السلام په ژبو دغه حکم مو لږلی دی چې د پاک الله په عبادت کې بل هيڅوک مه شريکوئ ! ﴿وَسْـَٔلْ مَنْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رُّسُلِنَاۤ اَجَعَلْنَا مِنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ اٰلِهَةً یُّعْبَدُوْنَ﴾ (۲۵ جزء د الزخرف (۴۵) آيت (۴) رکوع) يعنې د خالص توحيد په لاره کې هيڅ يوه لوړه ژوره نشته، سم صاف سړک دی، چې پر هغه باندې د تللو په وسيله انسان بې له وېرې په اطمينان تر الله تعالی پورې رسيږي، ليکن ډېر کسان له حماقته يا تعصبه پر داسې سمې خبرې هم نه پوهيږي.

يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ أَمَّآ أَحَدُكُمَا فَيَسْقِي رَبَّهُۥ خَمْرًا ۖ وَأَمَّا ٱلْءَاخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَأْكُلُ ٱلطَّيْرُ مِن رَّأْسِهِۦ ۚ قُضِيَ ٱلْأَمْرُ ٱلَّذِي فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ ﴿٤١﴾

ای دواړو ملګرو ځما د بندیخانې ! هر چې یو له تاسې دواړو (دی، چې د پاچا ساقي دی)؛ نو وبه ځښوي مالک بادار خپل ته شراب (لکه د پخوا په شان)، او هر چه دا بل (د پاچا خبّاز)؛ نو په دار به شي نو خوري به مرغان (غوښې) له سره د ده، فیصله شوی دی کار هغه چې په هغه کې فتوی او تعبیر غوښت تاسې له ما ځخه.

تفسیر: د تبلیغ د فرض له اداء کولو ځخه وروسته یوسف علیه السلام د دوی د خوبونو تعبیر وفرمایه، هغه چې په خوب کې پاچا ته شراب ورځښولي دي، د هغه تعبیر همدا دی چې دی به په ویښتیا کې هم بیا خپل پاچا ته شراب ورځښوي، او هغه بل چې په خوب کې یې لیدلي چې له پاسه د ده له سره مرغان ډوډۍ خوري، د هغه مطلب دا دی چې پر دار باندې خپړولی کیږي، او ځناوران د ده د سر پوستکی هم شکوي او خوري به یې، د قضا او قدر فیصله همدغه ده، چې هغه له سره ببرته ګرځېدونکې نه ده، د هغې خبرې پوښتنه چې تاسې کوله، هغه مې وروښوله، دغه بالکل یوه قطعي او یقیني او پرې کړی شوې خبره ده، چې په کې له سره تخلف نشي کېدی، لکه چې همداسې وشو، ساقي د زهرو ورځښولو له تهمته بیخي پاک او بریء ووت، او نانوایي د خپل جرم په سزا غرغره او په دار ځوړند شو.

وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُۥ نَاجٍ مِّنْهُمَا ٱذْكُرْنِي عِندَ رَبِّكَ فَأَنسَىٰهُ ٱلشَّيْطَٰنُ ذِكْرَ رَبِّهِۦ فَلَبِثَ فِي ٱلسِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ ﴿٤٢﴾

او وویل یوسف هغه یوه ته چې یقین یې درلود چې بېشکه دی خلاصېدونکی دی له دې دواړو نه (چې ساقي دی) چې: یاد کړه (مظلومیت ځما) په نزد د مالک خپل (چې خوشې مې کړي له بنده)؛ نو هېر کړ شیطان یادول د یوسف هغه بادار خپل ته، نو پاتې شو یوسف په بندي خانه کې څو کاله (یعنې اوه کاله).

تفسیر: دلته ظن د یقین په معنی دی لکه چې په ﴿ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُوا۟ رَبِّهِمْ﴾ کې دی، یعنې یوسف علیه السلام د دغو دواړو په منځ کې د هغه په نسبت چې متیقن وو چې بریء کېدونکی دی، کله چې له بندي خانې ځخه ووت وویل: چې د پاچا په مخکې ځما یادونه هم وکړه، چې داسې یو بې قصوره سړی د کلونو کلونو راهیسې په بندي خانې کې پروت دی، د مبالغې هیڅ ضرورت نه دی، ځما کوم حال او احوال چې تا پخپلو سترګو لیدلي دي؛ کټمټ (هوبهو) همغه ووایه !.

﴿فَأَنسَىٰهُ ٱلشَّيْطَٰنُ﴾ الآیه ـ یعنې شیطان د دغه خلاص شوي بندي په زړه کې مختلفې وسوسې او خیالات وغورځول، او داسې یې غافل کړ چې د خپل دغه لوی محسن «یوسف علیه السلام» تذکره یې تر کلونو کلونو پورې ونه کړه، او له سره یې په یاد هم پاتې نشو، او بالنتیجه یوسف علیه السلام څوکاله نور هم په بندي خانه کې پاتې شو.

له ډېرو مدتونو ځخه وروسته کله چې پاچا یو خوب ولید، چې د هغه په تعبیر باندې هیڅوک ونه پوهېدل؛ نو دلته د دغه سړي (ساقي) یوسف په یاد شو، لکه چې وروسته راځي: ﴿وَقَالَ ٱلَّذِي نَجَا مِنْهُمَا وَٱدَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ﴾ الآیه ـ د هېرولو نسبت د شیطان په لوري ځکه وکړ شو، چې د وساوسو او د نورو د القاء ذریعه ده، چې دنسیان سبب ګرځي، د موسی علیه السلام د سفر ملګري هم ویلي وو: ﴿وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيْطَٰنُ أَنْ أَذْكُرَهُۥ﴾ (١٥ جزء د الکهف سورت (٦٣) آیت (٩) رکوع).

ليکن په هر شر کې الله تعالى کومه د خير خوا هرو مرو (خامخا) ږدي، دلته هم اګر که د نسيان نتيجه د بندیګرۍ د تطويل په صورت راخرګنده شوه؛ خو بيا هم د شاه صاحب د نکتې له پيدا کولو سره سم داسې يو تنبيه ورته وشوه، چې يو نبي لره نه ښايي چې تش په ظاهري اسبابو او وسائلو زړه وتړي، بلکه ابن جرير او بغوي او نورو له ځينو اسلافو څخه نقل کړی دی چې هغوی د ﴿فَأَنسَاهُ الشَّيْطَانُ ذِكْرَ رَبِّهِ﴾ ضمير د يوسف عليه السلام په لوري راجع کړی دی، ګواکې ﴿اذْكُرْنِي عِندَ رَبِّكَ﴾ هغه بندي ته ويل چې خپل بادار ته ځما ذکر وکړه ! حال دا چې پر ده لازم وو چې د ګردو ظاهري اسبابو او وسائلو سره يې پخپله هم د پاک الله په دربار کې خپل عرض او غوښتنه کوله.

وَقَالَ الْمَلِكُ إِنِّي أَرَىٰ سَبْعَ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ ۖ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي رُؤْيَايَ إِن كُنتُمْ لِلرُّؤْيَا تَعْبُرُونَ ﴿٤٣﴾

او وويل پاچا (وروسته له اوو کلونو): بېشکه ما ولېدلې په خوب کې اووه غواوې څربې چې خوري دې (څربو غواوو لره) اوه نورې خوارې غواوې، او (بيا مې ولېدل) اوه وړې شنه او نور اووه مې وليدل وچ (چې پر دغو شنو لمدو ورتاو شول)، ای ډلې د درباريانو ! فتوی (تعبير) راکړئ تاسې ټول ماته په دې خوب ځما کې که يئ تاسې چې د خوب تعبير کولی شئ.

قَالُوا أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ ۖ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ الْأَحْلَامِ بِعَالِمِينَ ﴿٤٤﴾

نو وويل (دغو درباريانو): دا ګډوډ (تخيلي) خوبونه دي، او نه يو مونږ په تعبيرونو د خوشې خيالي خوبونو باندې پوهيدونکي.

تفسير: معلوميږي چې هغه خلق له دې فن څخه جاهلان وو، نو ځکه د خپلې ناپوهۍ په اقرار کې وشرمېدل، او داسې يوه خبره يې جوړه کړه چې دا له سره خوب نه بلکه خوشې چتې (بېکاره) او پرېشان خيالات دي، چې ډېر کله انسان ته د خوب په حالت کې داسې ګډوډ خيالات او چرتونه ورپېښيږي، چې له سره د دقّت او اعتناء وړ او لايق نه دي، او نه مونږ د داسې خوبونو په تعبير کې څه علم لرو، ځکه چې دغه د علم التعبير تر اصولو لاندې نه راځي.

وَقَالَ الَّذِي نَجَا مِنْهُمَا وَادَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ أَنَا أُنَبِّئُكُم بِتَأْوِيلِهِ فَأَرْسِلُونِ ﴿٤٥﴾

او وويل هغه سړي چې خلاص شوی وو له هغو دواړو (يعني ساقي) او په ياد يې شو (يوسف) پس له ډېرې مودې چې زه به خبر کړم تاسې په تعبير د دې خوب؛ نو ولېږئ تاسې ما (يوسف زنداني ته).

تفسير: اوس د خوب په سلسله کې د هغه ساقي چې له بندیګرۍ څخه خوشې شوی وو يوسف عليه السلام په ياد کې راغی، ده پاچا او نورو واکوالانو (وزراوو) او اهل دربار ته يې وويل: که ماته لږ څه تر بندیخانې پورې د تللو اجازه راکړه شي؛ نو زه به ډېر ژر د دې خوب ډېر صحيح تعبير تاسې ته راوړم، په بندیخانه کې يو مقدس پرښته صورت بزرګ شته، چې په علم التعبير کې ډېر ماهر دی، ممکن دی چې ده به د خپل خوب قصه هم هغوی ته کړي وي، زه د دغه تعبير لپاره د ده خدمت ته حاضر ېرم، وروسته له دې نه چې ورته اجازه ورکړه شوه؛ نو د پاچا ساقي د يوسف عليه السلام په خدمت کې مشرف شو، او داسې عرض او غوښتنه يې ورڅخه وکړه:

يُوسُفُ أَيُّهَا الصِّدِّيقُ أَفْتِنَا فِي سَبْعِ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ سُنْبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ لَعَلِّي أَرْجِعُ إِلَى النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٤٦﴾

ای یوسفه ! ای ډېره رښتینه ! تعبیر دخوب راکړه مونږ ته په اوو غواوو څربو کې چې وخوري دې څربو لره اووه (نورې) خواړې غواوې، او په اوو وړیو شنو کې، او اوو نورو وچو وړیو کې (چې له هغو شنو چاپېر دي) ښایي چې زه بېرته لاړ شم (سره له تعبیره) خلقو ته (چې پاچا او درباریان یې دي) لپاره د دې چې دوی پوه شي (په تعبیر د خوب د پاچا او قدر ستا).

قَالَ تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا فَمَا حَصَدْتُمْ فَذَرُوهُ فِي سُنْبُلِهِ إِلَّا قَلِيلًا مِمَّا تَأْكُلُونَ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَأْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ إِلَّا قَلِيلًا مِمَّا تُحْصِنُونَ ﴿٤٨﴾ ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ﴿٤٩﴾

وویل (یوسف) چې کرئ به تاسې (هر قسم فصل) اووه کاله پرله پسې په ډېر زیار (کوښښ) سره ډېر، نو هر هغه چې ورېبل تاسې نو پرېږدئ هغه غله په وړې خپل کې مګر لږ شانې له هغه چې تاسې یې خورئ (نو هغومره قدر ترې پاک کړئ). بیا به راشي وروسته له دغو (اووه کلونو ودانو) اووه نور (کلونه) سخت چې وبه خوري (اهل د دې اوو سختو کلونو) هغه غلې چې پخوا ذخیره کړي وي تاسې لپاره د دې مګر لږ شانې له هغه چې تاسې ساتئ (یې تخم ته). بیا به راشي وروسته له دې (کلونو د قحط) یو کال (چې پنځلسم به وي) چې په هغه کې به فریاد رسي وکړه شي د خلقو (په غلو او بارانونو) او په دې کې به ونښېځي (نچوړ کړي) خلق (مېوې او غوړې دانې).

تفسیر: یوسف علیه السلام د خوب د تعبیر په ورښوولو کې نه څه ځنډ (ایسارتیا) وکوله، او نه یې کوم شرط ورته کښنود، او نه یې هغه سړی شرمنده کړ، چې ته مې وروسته له دغومره کلونو اوس ولې خبر اخلې؟ له دې نه د انبیاوو علیهم السلام د اخلاقو اندازه له ورا معلومیږي، بیا هغه یواځې د خوب تعبیر غوښتی وو، مګر ده درې شیان ورعطا کړل: تعبیر، تدبیر، تبشیر.

د یوسف علیه السلام د کلام حاصل دا دی، چې اووه غټې څربې غواوې او اووه شنه وړې هغه اووه کلونه دي چې په کې پرله پسې متواتر خوښی او هوسایي (ارام) به وي، د ځمکو حاصلات به ډېر کیږي، حیوانات او نباتات به ډېره ترقي او وده کوي، وروسته له دې نه به اووه کلونه قحط راځي، چې په هغه کې هغه ګردې پخوانی ذخیرې خوړلی کیږي، او بیخي به یې په پای رسوي، یواځې د راتلونکي کال د تخم شیندلو لپاره به لږ څه پاتې کیږي، دغه اووه کاله همغه خواړې غواوې او وچ وړي دي چې څربې غواوې او شنه وړي به خوري، او ختم کوي یې.

د تعبیر ښوولو په ضمن کې یوسف علیه السلام د شفقت او زړه سوی او رحم علی خلق الله لامله د یوه تدبیر تلقین هم وفرمایه، چې په ړومبنیو اوو کلونو کې هغه ښه او ډېر حاصلات په لاس ورځي، ښایي چې په ډېر حفاظت سره یې وساتئ، او په کفایت شعاري سره یې ذخیره وکړئ، هومره غله مو چې د خوړلو او کرلو لپاره پکاریږي؛ هغه ښله کړئ، او لږ لږ یې په ډېر احتیاط سره خورئ، او نورې غلې همغسې په خپلو وړیو کې پرېږدئ، چې له چنجیانو او نورو مضره وو حشراتو څخه په ښه شان سره وساتلی شي، او د اوو کلونو حاصلات د څوارلسو کلونو په کار ورشي، که داسې ونه کړئ؛ نو له قحط او غم سره به مو مقابله ډېره ګرانه وي.

د دغه تعبير او تدبير ښوولو څخه وروسته يې هغوی ته يو بشارت هم واورا وه، چې غالباً به ورته د وحيې په وسيله معلومه شوي وي، يعنې وروسته له اوو کلونو قحطي څخه کوم کمال چې راځي؛ په هغه کې به د الله تعالى له خوا ستاسې فرياد رسی کيږي، او ښه پرېمانه بارانونه به اوري، (فصلونه، غلې، دانې او نور محصولات به په ډېر افراط سره پيدا کيږي، له انګورو (کورو) خُرما او نورو ښېګونکو (نچوړونکي) شيانو څخه به خلق شراب جوړوي، دغه وروستنی خبره يې د سائل له حاله سره موافقه وکړه، ځکه د ده کار همدغه وو.

وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ ۖ فَلَمَّا جَاءَهُ الرَّسُولُ قَالَ ارْجِعْ إِلَىٰ رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ اللَّاتِي قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ ۚ إِنَّ رَبِّي بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ ﴿٥٠﴾

او وويل پاچا: راولئ تاسې ماته دغه (يوسف)، نو کله چې راغی دغه (يوسف ته) استازی (د پاچا) وويل يوسف چې: بېرته لاړ شه ! مالک بادار خپل ته نو پوښتنه وکړه چې څه حال وو د ښځو هغو چې غوڅ کړي يې وو لاسونه خپل، بېشکه چې رب ځما په کيدونو (مکرونو) د دوی ښه خبردار دی.

تفسير: پاچا پخوا له دې نه د خپل ساقي د تذکرې په اثر د يوسف عليه السلام معتقد شوی وو، اوس چې داسې موزون او په زړه پورې تعبير او د رعاياوو خواخوږي او زړه سوی او ښه تدبير يې واورېد، نو د يوسف علم، فضل، عقل، پوهې، ښه اخلاق سخت د پاچا په زړه ولوېد، او على الفور يې امر صادر کړ چې: «داسې پوه سړی دې ژر تر ژره ځما حضور ته راحاضر کړ شي، چې زه يې زيارت وکړم، او ترې مستفيد شم، او سم د ده د مرتبې او قابليته سره يې عزت وکړم».

قاصد سم له لاسه دغه شاهي پيغام د يوسف عليه السلام په خدمت کې ورساوه، مګر د يوسف عليه السلام په نظر د ده د ديني او اخلاقي وضعيت برتري او صفايي له ډېر اعلا الأعلى دنيوي عزت او وجاهت څخه هم ډېر لوړ او مهم وو، دی ښه پوهېده چې د نبي الله په نسبت د خلقو ډېره لږه بدګماني هم د هدايت او ارشاد په کارونو کې ډېر زيات اشکال او سخت ضرر پېښولی شي، که زه د پاچاهی فرمان په اثر په پټه خوله له بندي خانې څخه ووځم، او د هغه تهمت په سلسله چې زه له کلونو کلونو راهيسې د قيد او بندیګرۍ ذلت تېروم دهغه په قطعي ډول استيصال ونشي؛ نو ډېر امکان لري چې ډېر ناواقفه خلق به ځما د عصمت په نسبت څه تردد او شبهه ولري، او حاسدان به څه مهال (وخت) وروسته له همدغو بې اصلو اثراتو څخه بيا استفاده وکړي، بيا به کومه حيله او پلمه راته جوړه کړي.

نو د دغو مصالحو لامله يوسف عليه السلام د پاچاهی حکم په امتثال کې چالاکي ونه کړه، بلکه د نهايت صبر او استقلال مظاهره يې وکړه، او قاصد ته يې وويل: چې ته دې خپل بادار ته لاړ شه، او ترې پوښتنه وکړه چې: «آيا تاسې ته د هغو ښځو څه حقيقت معلوم شوی دی چې د مېلمستيا په موقع کې يې خپل لاسونه پرې کړي وو»، يوسف عليه السلام ته د هغو ښځو نومونه او پېژندګلو به له کومه معلوم وي، او داسې خيال به يې کړی وي چې دغسې مهمې (خاص) واقعې به هرومرو خپل عمومي شهرت حاصل کړی وي، نو ځکه د هغې واقعې يو ممتاز جزء د لاسونو پرې کول يې ظاهر کړه، او پاچا ته يې توجه ورکړه، چې د دغې مشهورې او معروفې قصې تفتيش او تحقيق وکړي، غالبا اوس به هغه ښځې تاسې ته دغه خبره درخرګنده کړي، چې تقصير د چا دی؟.

د صحيحينو شريفينو په حديث کې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د صدّيق يوسف ستاينه په دغو الفاظو سره فرمايلې ده: «لو لبثت في السجن ما لبث يوسف لأجبت الداعي»، «که زه دومره مدت بندي پاتې کېدم چې يوسف عليه السلام بندي پاتې وو، نو د بلونکي اجابت به مې کړی وه، يعنې فوراً به ورسره تلم»، محققين وايي چې په دې

کې د يوسف عليه السلام د صبر تحمل او تعريف او په لطيف رنګ سره د ده د کامل عبوديت اظهار د رب العزّت په دربار کې دی.

لنډه يې دا چې ساقي راغی او پاچا يې له ګردې ماجرا څخه پوره خبردار کړ، نو پاچا هغه ښځې سره له زلېخا راحاضرې کړې او:

قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَاوَدتُّنَّ يُوسُفَ عَن نَّفْسِهِ ۚ قُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِن سُوءٍ ۚ قَالَتِ امْرَأَتُ الْعَزِيزِ الْآنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ أَنَا رَاوَدتُّهُ عَن نَّفْسِهِ وَإِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٥١﴾

وويل (پاچا هغو ښځو ته) چې څه حال وو ستاسې کله چې تاسې طلب کړ (او فريب مو ورکاوه) يوسف ته لپاره د تېر ايستلو د نفس د ده (نو ميلان يې وکړ تاسې ته؟ که نه)، وويل ټولو ښځو: پاکي ده الله ته، نه يو پوهيدلي مونږ په دغه (يوسف) باندې له هيڅ بدی، وويل ښځې د عزيز چې: اوس ظاهر شو حق (رښتيا خبره) ما طلب کړی وو په فريب لپاره د تېر ايستلو د نفس د ده (چې خپل مراد تړې واخلم) او بېشکه يوسف خامخا له صادقينو (رښتينو) څخه دی.

تفسير: باچا د پوښتنې عنوان داسې غوره کړ، چې ګواکې دی له دې پېښې نه لا له پخوا څخه خبر دی، څو دوی د باچا په مخکې دروغ ويلو ته څغرد (کوښښ) ونه کړي، او هم د يوسف عليه السلام د صبر، تحمل او استقامت اثر به پرې لوېدلی وي ، چې هغه بې د برائت له اظهاره له بندي خانې څخه وتل نه خوښوي.

او په ﴿إِنَّ رَبِّي بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ﴾ فرمايلو سره د دوی کېد رابښکاروي، او له بل لوري ساقي او نورو به اصلي واقعات ده ته اورولي وي، چې له هغو څخه به هم د يوسف عليه السلام نزاهت او د ښځو د مکائدو تاييد په لاس ورغلی وي.

د ګردو ښځو له متفقه شهادت څخه وروسته پخپله زلېخا هم په صاف ډول سره اقرار وکړ، چې قصور ځما دی، يوسف بيخي رښتين دی.

ذَٰلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّي لَمْ أَخُنْهُ بِالْغَيْبِ وَأَنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي كَيْدَ الْخَائِنِينَ ﴿٥٢﴾

دغه (پوښتنه مې ځکه وکړه) چې پوه شي (عزيز) چې بېشکه ما خيانت نه دی کړی د ده سره په پسې شا هم، او بېشکه چې الله نه برابروي کيد مکر د خيانتګرانو (او په مقصد يې نه رسوي).

تفسير: يعنې دغومره تحقيق او تفتيش د دې لامله وکړ شو، چې د نبوت عصمت او ديانت بالکل ښکاره شي، او ګرد خلق سره وپوهيږي چې د خائنانو او دغابازانو فريب ته الله پاک بری نه ورکوي، لکه چې د دغو ګردو ښځو فريب ونه چلېدو، او بالآخر حق، حق او پخپل ځای ودرېد.

کله چې له دغو خبرو ځخه يو قسم تکبر او غرور معلومېده په عمل خپل باندې؛ نو وويل يوسف عليه السلام لپاره د دفعې د دغې چې:

وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِي ۚ إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّي ۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥٣﴾

او زه نه پاکوم نفس خپل (په دې شان چې نه کوي ميل بدي ته ځکه چې) بېشکه نفس خامخا ډېر امر کوونکی دی (هر وخت) په بدۍ سره مګر هغه (نفس) چې رحم مهرباني پرې کړي وي رب ځما چې بېشکه رب ځما ښه مغفرت کوونکی (د خطياتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: څرنګه چې يوسف عليه السلام په خپل برائت باندې ډېر زور غورځولی وو، لکه چې پخوا مو وليکل امکان يې درلود چې کوم سطحي سړی هغه ته په فخر او ناز او غرور او اعجاب سره تشبيه ورکړي؛ نو ځکه يوسف عليه السلام په خپله خپل نزاهت حقيقت څرګند (بښکاره کړ)، چې زه پر خپل دغه عصمت څه فخر او غرور نه کوم، او نه پر خپل طهارت اعتماد کولی شم، دا محض د پاک الله رحمت او اعانت دی، چې يو نفس له بدی څخه منع کوي، همدغه خصوصي رحمت د انبياوو عليهم السلام کفيل او ضامن دی، که نه د انساني نفس کار عموماً د بدی په لوري ترغيب ورکول وو، که د الله تعالی خصوصي توفيق او لاس نيونه نه وئ؛ نو ځما نفس به هم د نورو بشريه وو نفوسو په شان وئ.

په ﴿إِنَّ رَبِّي غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ سره يې اشاره وکړه کله چې «نفس امّاره» توبه وکړي، «نفس لوّامه» ګرځي، نو الله د ده ګرد پخواني تقصيرات بښي، بلکه ورو ورو پخپلې مهربانۍ سره يې د «نفس مطمئنه» تر درجې پورې رسوي.

تنبيه: حافظ ابن تيميه او ابن کثير (رحمهما الله تعالی) او نور له ﴿ذَٰلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّي لَمْ أَخُنْهُ﴾ څخه تر ﴿غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ پورې د زليخا مقوله دروي، يعنې زليخا د ﴿أَنَا رَاوَدْتُّهُ عَن نَّفْسِهِ﴾ اقرار وکړ، او ويې ويل چې: په دغه اقرار او اعتراف سره زه عزيز ته د دغې خبرې ورځرګندول (بښکاره کول) غواړم، چې ما د عزيز په غياب او نشتوالي کې کوم لوی خيانت نه دی کړی، بېشکه د يوسف عليه السلام لمسولو ته مې اراده کړې وه، مګر ځما دغه مراودت پر يوسف عليه السلام باندې هيڅ کوم اثر ونه غورځاوه.

وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِي ۖ فَلَمَّا كَلَّمَهُ قَالَ إِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ ﴿٥٤﴾

او وويل پاچا چې راولئ (تاسې ای مقربينو ځما) ماته دغه (يوسف) چې خالص کړم دغه لپاره (د کارونو) د ځان خپل (يعنې ځما به مشير خاص وي)، نو کله چې خبرې وکړې (پاچا) له دغه (يوسف) سره، وويل (پاچا) چې: بېشکه ته نن ورځ په نزد ځمونږ خاوند د مرتبې امانتګر يې.

تفسير: پاچا يې څه لا له پخوا څخه معتقد شوی وو، کله يې چې بالمشافهه خبرې ورسره وکړې، نو بيخي يې مخلص او معتقد شو، او حکم يې ورکړ، چې له نن ورځې څخه وروسته تاسې له مونږ سره په ډېر عزت او احترام ډېر معتبر او پتيالی (عزتمند) اوسېږئ، شاه صاحب (رحمه الله تعالی) ليکي چې: «اوس يې د عزيز سره علاقه پرې کړه، او دی يې خپل مصاحب وګرځاوه».

قَالَ اجْعَلْنِي عَلَىٰ خَزَائِنِ الْأَرْضِ ۖ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ ﴿٥٥﴾

وويل (يوسف عليه السلام پاچا ته) چې: مقرّر کړه ما پر خزانو د ځمکې (د مصر) بېشکه زه بنه ساتونکی (د اموالو) بنه پوه يم (په وجوه د تصرفاتو او جذب د فوائدو، نو پاچا يوسف ته د خزائنو کنجي ګانې وروسپارلې، او د سلطنت ټول اختيارات يې ورته وکړل).

تفسير: يعنې د دولت حفاظت هم په پوره ډول سره کولی شم، او د هغه د عوائدو او مخارجو له ذرائعو او له حسابه او کتابه هم بنه باخبره او واقف يم، يوسف عليه السلام پخپله خوښه او غوښتنه د نقدي او د جنسي او د حاصلاتو د ځمکې اداري امور په خپل لاس کې واخيستل، څو په دغه وسيله سره عامو خلکو ته پوره ګټه ورسولی شي، خصوصاً په راتلونکي قحط کې په ډېر بنه انتظام او سلوک سره د مخلوقاتو خبر نيونه وکړی شي، او د حکومت مالي وضعيت په بنه ډول سره ټينګ او مضبوط وساتلی شي، له دې نه ظاهريږي چې انبياء عليهم السلام دنيوي عقل هم پوره لري، او دغه هم څرګنده شوه، چې د خلائقو د خدمت لپاره مالياتي په چارو کې لاس وهل د نبوّت له مقامه يا د عظمت له شان سره مخالفت نه لري.

که يو سړی سره له نېک نيتې داسې وکړي، چې د هغه منصب لپاره زه اهل يم، او له نورو ځنې به دغه کار په ښه شان سره نه جوړيږي، نو دغه د مسلمانانو د خير غوښتلو او نفع رسولو له امله که د هغه غوښتنه يا مطالبه وکړي؛ کولی يې شي.

د عبد الرحمن بن سمرة (رضي الله تعالى عنه) له يوه حديثه معلوميږي «هر څوک چې پخپله د امارت طالب شي؛ نو د هغه بار د ده پر اوږو باندې اچولی کيږي» (او غيبي اعانت ورسره مدد او مرسته نه کوي)، او دغه په هغه وخت کې ده چې دغه طلب محض نفس پاللو او د جاه او د لوړوالي د خوښولو او نورو دنيوي اغراضو په بناء وي، والله أعلم.

وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَاءُ نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَنْ نَشَاءُ وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٥٦﴾

او په مثل د دغه (مذکوره نعمت او احسان) ځای (قدرت) ورکړ مونږ يوسف ته په ځمکه (د مصر) کې، چې ځای به يې نيوه (يعنې اوسېده) له دغې ځمکې څخه هر چېرته چې به يې خوښه وه، رسوو مونږ رحمت نعمت خپل هر چاته چې اراده وفرمايو مونږ، او نه ضايع کوو مونږ اجر (بدل) د محسنانو (نيکوکارانو).

تفسير: يوسف عليه السلام هر چېرې چې غوښته ښکته کېده، او هر هغه شی يې چې زړه غوښته به يې تصرف کاوه، ځکه چې «ريان بن وليد» په نامه سړه باچا وو، او په حقيقت کې يوسف عليه السلام پاچاهي کوله.

وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ﴿٥٧﴾

او خامخا اجر (بدل) د آخرت خير (ډېر غوره) دی (له دنيوي اجره) هغه کسانو ته چې ايمان يې راوړی دی، او وو دوی چې پرهېزګاري يې کوله (له شرک او فواحشو).

تفسير: هر هغه چې د نېکۍ او ښېګڼې (فائدې) لاره غوره کړې ده؛ الله تعالى هغه ته په دنيا کې که اراده وفرمايي د هغه خوږه ثمره ورکوي، اعم له دې چې ثروت (مالداري) وي يا حکومت ـ عيش وي يا عشرت، خوږ ژوندون يا لذت، قلبي غنا وي يا قناعت، نو يوسف عليه السلام ته دغه ځکه شيان ورعنايت فرمايلي شوي وو، پاتې شول د آخرت اجرونه؛ هغه يو ايماندار او پرهېزکار ته هلته له دنيوي اجرونو څخه خورا (ډېر) بهتر اجرونه ور په برخه کيږي.

شاه صاحب (رحمه الله تعالى) ليکي: «دغه جواب شو د هغه سؤال چې د ابراهيم عليه السلام اولاده په څه ډول له شام څخه مصر ته راغله، او بيان وشو چې ورونو په څه ډول سره يوسف عليه السلام له کوره لرې وغورځوه؟ چې خوار او ذليل شي، او الله تعالى څرنګه ورته عزت وبانبه، او پر ملک يې واک او اختيار ورکړ؟ او همداسې ځمونږ محبوب رسول محمد صلى الله عليه وسلم سره هم وشو».

وَجَاءَ إِخْوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُوا عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ لَهُ مُنْكِرُونَ ﴿٥٨﴾

او راغلل ورونه د يوسف (له کنعانه مصر ته) نو راننوتل په دغه (يوسف) باندې پس وپېژندل (يوسف) دوی، او دوی دغه (يوسف) لره ناپېژندونکي وو (په سبب د حجاب يا اوږدوالي د زمانې).

تفسير: په «موضح القرآن» کې دي، کله چې يوسف د مصر پر مملکت خپلواک او مختار شو، نو سم له همغه خوب سره په اوو وړومبنيو کلونو کې يې ښه ودانې وکړه، او د ګردو ځمکو غلې او دانې يې راغونډې کړې،

او ذخيره يې کړې، بيا د قحط په اوو وروستنيو کلونو کې يو متوسط نرخ يې وټاکه، او هغه به يې پر مصريانو او نورو پرديسيانو برابر پلورلې (خرڅولې)، مګر پرديسيانو ته يې سړي په سر له يوه اوښ بار (څټې) څخه زيات نه ورکاوه.

نو په دغه وسيله سره خلق الله له قحط څخه نجات وموند، او د باچاهۍ خزانه ډکه شوه، او په هر لوري کې دغه انګازه خوره شوه، چې غله په مصر کې ارزانه ده، نو ځکه د ده وروڼه هم د غلې د پېرودلو لپاره مصر ته راغلل، د دوی هيئت او قيافه او وضع او قطع کې دومره تغيير او تبديل نه وو شوی، دلته يوسف به هم پرله پسې د خپلو وروڼو پوښتنه او پلټنه کوله، او وروسته له هغه ځای د رسېدلو څخه د دوی د نامه او د نښې پوښتنه به يې هم کړي وي، لکه چې د سلاطينو او اعيانو ملاقات کې عموماً دغه اصول جريان لري، لکه چې په ځينو تفاسيرو کې راغلي دي، چې هغوی يوسف عليه السلام ته خپل نوم او صفات بيان کړل، څرنګه چې يوسف عليه السلام د بېلتون په وخت کې ډېر وړوکی وو، او هم د ده د وروڼو فکر او خيال دې لوري ته نه تلو، چې ګوندې دا به يوسف عليه السلام وي، او نه له غټانو او باچاهانو څخه عام خلق داسې جرأت کولی شي، چې له دوی ځنې د هغوی د نامه نسب او نورو شيانو پوښتنې وکړي، نو ځکه دوی يوسف ونشو پېژندلی.

وَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُونِي بِأَخٍ لَّكُم مِّنْ أَبِيكُمْ ۚ أَلَا تَرَوْنَ أَنِّي أُوفِي الْكَيْلَ وَأَنَا خَيْرُ الْمُنزِلِينَ ﴿٥٩﴾

او کله چې تيار کړ (يوسف) دوی ته اسباب د سفر د دوی نو وويل (يوسف وروڼو خپلو ته) چې راولئ تاسې ماته هغه ورور ستاسې چې له پلار ستاسې دی ! آيا نه وينئ تاسې چې بېشکه زه پوره درکومه پيمانه او زه غوره د مېلمستيا ورکوونکو يم.

تفسير: يوسف عليه السلام د خپلو وروڼو ښه مېلمستيا عزت اومدارات وکړه، او د سړي په سر يو اوښ غله يې دوی ته ورکړه، د دغه عالي اخلاق او خاصې مهربانۍ د ليدلو په اثر وايي، چې دوی داسې غوښتنې وکړې چې ځمونږ يو علاتي ورور (بنيامين) ځمونږ د سپين ږيرۍ غمجن پلار له لوري د ده د خدمت او تسکين لپاره په (کنعان) کې پاتې دی، ځکه چې د ده بل عيني ورور يوسف عليه السلام چې پر پلار بې اندازې ګران وو، ډېره موده پخوا له دې نه په کومې بېدیا کې هلاک دی، که د (بنيامين) د برخې غله هم مونږ ته مرحمت وکړی شي؛ نو ډېره مهرباني به وي، يوسف عليه السلام وفرمايل چې: په دې ډول سره د غائب حصه ورکول له اصوله مخالف دي، ځکه چې زه ورکوم بار په شمار د انسانانو، نه په شمار د حيواناتو، کله چې تاسې بيا راځئ نو (بنيامين) هم له خپله ځانه سره راولئ، نو هلته به د هغه برخه هم تاسې ته درکوله کيږي، تاسې ځما د اخلاقه او د مېلمانه پاللو څخه بالمشاهده خبر شوي يئ، چې زه پوره ورکومه پيمانه، او بېرته نه نيسم حق د هيڅا، نو آيا وروسته له دې نه تاسې ته د خپل وړوکي ورور په راوستلو کې څه تردّد او اندېښنه پېښېدلی شي؟ بلکه هيڅ تردد او اندېښنه له سره مه کوئ، او له ځانه سره يې راولئ !.

فَإِن لَّمْ تَأْتُونِي بِهِ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِندِي وَلَا تَقْرَبُونِ ﴿٦٠﴾

نو که رانه وست تاسې ما ته دغه (علاّتي ورور خپل) نو له سره نشته پيمانه (د غلې) تاسې ته ما سره، او مه رانژدې کېږئ تاسې بيا ماته (په مصر کې).

تفسير: يعنې که هغه ورور مو له خپله ځانه سره را نه وست؛ نو داسې ګڼلی شئ چې تاسې دروغ وايئ، او خلاف الأصول د يوه اوښ څټه وړل مو مقصد دي، نو د هغه په سزا کې وروسته له دې نه نه يواځې ستاسې برخې سوځي، بلکه ما ته يا ځما په مملکت کې ستاسې د راتګ اجازه هم سلب کيږي.

قَالُوا سَنُرَاوِدُ عَنْهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَاعِلُونَ ﴿٦١﴾

وويل دوی: ژر به په کوښښ سره غواړو دی له پلاره د ده، او بېشکه مونږ خامخا کوونکي یو (د دې کار).

تفسير: يعنې اګر که له پلاره د هغه بېلتون (جدايي) ډېر مشکل دی، خو بيا هم مونږ کوښښ کوو، چې خپل پلار په يو تدبير سره خوښ او راضي کړو، هيله (اميد) شته چې په يو ډول په دغه مقصد کې بری ومومو.

وَقَالَ لِفِتْيَانِهِ اجْعَلُوا بِضَاعَتَهُمْ فِي رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُونَهَا إِذَا انْقَلَبُوا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٦٢﴾

او ووېل (يوسف) مريو (پيمانه ګرو) خپلو ته چې: کېږدئ هغه پنګه (ثمن) د دوی په بارونو د دوی کې په پټه سره، ښايېږي چې دوی وپيژني دا (پنګه خپله او احسان ځما) کله چې بېرته لاړ شي دوی اهل خپل ته، ښايېږي چې دوی به بيا بېرته راشي (او را به ولي ورور ځما).

تفسير: يعنې کومه پنګه (سرمايه) چې دوی ورکړې وه، او د هغې په بدله کې يې غله پېرودلې وه، حکم يې ورکړ چې هغه دې هم په پټه سره د دوی په اسبابونو کې بېرته کېږدي، څو کله چې بېرته خپل کورته وررسېږي، او اسبابونه پرانيځي؛ نو وګوري چې له غلې سره د هغوی پنګې (سرمايې) هم بېرته ورکړی شوي دي، چې بيا دوهم ځل راتګ ته زيات ترغيب او تشويق ور پيدا شي، او پخپلو زړونو کې ووايي، چې داسې کريم النفس باچا چېرې پيدا کېږي، او ممکن دي چې د قيمت د نه پيدا کېدلو له سببه بيا دوی د مصر له راتګه واوړي، او که پنګه يې په لاس وي؛ نو هرومرو به بيا راځي، نو ځکه يې هغه پنګه ورمسترده کړه.

ځيني وايي چې: يوسف عليه السلام له خپلو ورونو څخه د غلې قيمت اخيستل له مروته او کرمه لرې ليده، نو ځکه يې بېرته ورمسترده کړ.

فَلَمَّا رَجَعُوا إِلَىٰ أَبِيهِمْ قَالُوا يَا أَبَانَا مُنِعَ مِنَّا الْكَيْلُ فَأَرْسِلْ مَعَنَا أَخَانَا نَكْتَلْ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴿٦٣﴾

نو کله چې بېرته وګرځېدل دوی پلار خپل ته؛ نو ووېل دوی: ای پلاره ځمونږ ! منع کړی شوې ده له مونږ نه پيمانه (که راسره لاړ نشي «بنيامين») نو ولېږه له مونږ سره ورور ځمونږ چې پيمانه واخلو (هم د ده او هم خپله) او بېشکه مونږ ده لره خامخا ساتونکي يو (له مضراتو).

تفسير: يعنې د يوسف عليه السلام په شان د ده په نسبت اندېښنه او تردد مه کوئ، اوس مونږ پخپله وېرېدلي او هوښيار شوي يو، او په پوره ډول سره به د ده حفاظت کوو.

قَالَ هَلْ آمَنُكُمْ عَلَيْهِ إِلَّا كَمَا أَمِنْتُكُمْ عَلَىٰ أَخِيهِ مِنْ قَبْلُ فَاللَّهُ خَيْرٌ حَافِظًا وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿٦٤﴾

ووېل (يعقوب): آيا امينان کړم تاسې په بنيامين (هم بلکه نه مو شم امينان ګرځولی په ده باندې په هيڅ شان سره) مګر (په دې شان سره) لکه چې امينان کړي مې وئ تاسې پر ورور د ده (يوسف) پخوا له دې نه، نو الله خير (ډېر غوره) دی له جهته د ساتنې او همدی دی ډېر مهربان د ټولو مهربانانو.

تفسير: يعنې همدغه د ﴿وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ الفاظ تاسې د يوسف د بيولو په وخت کې هم ويلي وو، نو بيا به زه ستاسې پر دغې وعدې څرنګه اعتبار کولی شم، هو اوس شديد ضرورت دی، چې له هغه څخه اغماض (چشم پوشي) نشي کېدلی، نو

ځکه له تاسو سره د هغه تلل حتمي دي، نو زه يې پر پاک الله سپارم چې همغه الله يې پخپل حفاظت او مهربانۍ کې روغ رمټ وساتي، او ما يوسف عليه السلام له بېلتون ځخه وروسته له بل مصيبت ځخه پخپل فضل او کرم سره وساتي.

وَلَمَّا فَتَحُوا مَتَاعَهُمْ وَجَدُوا بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ إِلَيْهِمْ ۖ قَالُوا يَا أَبَانَا مَا نَبْغِي ۖ هَٰذِهِ بِضَاعَتُنَا رُدَّتْ إِلَيْنَا ۖ وَنَمِيرُ أَهْلَنَا وَنَحْفَظُ أَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيرٍ ۖ ذَٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ ﴿٦٥﴾

او کله چې پرانستل دوی بارونه خپل؛ وموندله دوی پنګه (سرمايه) خپله چې بېرته رالېږلې شوې وه دوی ته، نو وويل دوی: ای پلاره ځمونږ ! څه به (لا زيات احسان) غواړو مونږ؟ دا ده هغه پنګه (سرمايه) ځمونږ چې بېرته رد کړی شوې ده مونږ ته، او (بيا ځو چې) غله راوړو اهل خپل ته، او ساتو به ورور خپل او زيات به راوړو بار د اوښ (يعنې د بنيامين برخه) دا (يو بار د اوښ) پيمانه ده اسانه.

تفسير: يعنې د داسې اسانې پيمانې پربښودل نه دي په کار، په هر ډول چې کېږي (بنيامين) له مونږ سره پرېږدئ چې لاړ شي.

ځينو د ﴿ذَٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ﴾ اشاره د هغې غلې په لوري کړې ده، چې پخوا يې راوړې وه، او «يسير» يې د «قليل» په معنى اخيستى دى، يعنې هغه غله چې پخوا له دې نه راوړې شوې ده؛ هغه د حاجت په اعتبار لږه ده، او د دې قحط په زمانه کې تر کاله پورې به بس کېږي؟ لهذا ضرور دي چې په هر ډول سره چې کېږي، ښايي چې مونږ بيا لاړ شو، او د ګردو برخې له ځانه سره راوړو.

قَالَ لَنْ أُرْسِلَهُ مَعَكُمْ حَتَّىٰ تُؤْتُونِ مَوْثِقًا مِنَ اللَّهِ لَتَأْتُنَّنِي بِهِ إِلَّا أَنْ يُحَاطَ بِكُمْ ۖ فَلَمَّا آتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ﴿٦٦﴾

وويل (يعقوب خپلو ځامنو ته): له سره به ونه لېږم هغه (بنيامين) له تاسې سره تر هغه پورې چې راکړئ تاسې ماته عهد محکم د الله (په دې خبره) چې خامخا بېرته به راولئ ماته هرومرو دى مګر که چاپېروالى وکړ شي پر تاسې باندې (چې مړه يا مغلوب شئ)؛ نو کله چې ورکړه دوی دغه پلار ته وعده محکمه خپله؛ نو وويل (يعقوب ځامنو خپلو ته) چې: الله په هغه څه چې وايو يې مونږ وکيل (شاهد) دى.

تفسير: يعنې که د الله تعالى له تقدير سره کومه داسې حادثه ور د مخه شوه، چې په هغې کې تاسې ګرد سره پرې او مغلوبان شوئ، او د نجات هيڅ يوه لاره درپاتې نشي، نو هلته زه هيڅ نشم ويلى، هو ! سم له خپله توانه او مقدوره تر خپل ژوند پورې د بنيامين په حفاظت کې څه قصور مه کوئ، سره د دې پوخ عهد او پيمان اخيستلو او قسمونو يادولو د زيات تاکيد او اهتمام په ډول يې وفرمايل: ﴿قَالَ اللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ﴾ يعنې هغه عهد او پيمان چې مونږ په دغه وخت کې کوو، هغه ګرد پاک الله ته سپارو، که چا په هغه کې څه خيانت يا بد عهدي وکړه؛ نو همغه الله به يې په سزا رسوي.

وَقَالَ يَا بَنِيَّ لَا تَدْخُلُوا مِنْ بَابٍ وَاحِدٍ وَادْخُلُوا مِنْ أَبْوَابٍ مُتَفَرِّقَةٍ ۖ وَمَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ ۖ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۖ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ ﴿٦٧﴾

او وويل (يعقوب) له شفقته: ای ځامنو ځما ! مه ننوځئ تاسې (مصر ته) له دروازې يوې (چې نظر وانخلئ) او ننوځئ (دوه دوه يا درې درې) له دروازو بېلو بېلو ځخه، اونشم دفع کولى زه له تاسې

نه له (قضا) د الله نه هيڅ شی، نه دی حکم (په قضا سره) مګر خاص الله ته دی، خاص پر هم ده توکل کړی دی ما، او هم په همده باندې نو توکل دې وکړي توکل کوونکي.

تفسير: يعقوب عليه السلام ته داسې خيال پيدا شو چې د يوه پلار يوولسو وجيهه وو او ښايسته وو ځامنو په يوه خاص شان او اجتماعي هيئت سره په ښار کې ننوتل، خصوصاً وروسته له هغه ښه سلوکه چې د مصر د عزيز يوسف عليه السلام له لوري له هغوی سره شوی وو، او خلقو هغه مشاهده کړی وو؛ داسې يو شی دی، چې د هغه په لوري د عمومو سترګې هرومرو اړولې کيږي، «العين حقّ» نظر لګېدل هم يو حقيقت لري.

يعقوب عليه السلام خپلو ځامنو ته له بده نظره او د حسد او نورو مکروهاتو د ژغورنې لپاره دغه ظاهري تلقين وفرمايه، چې سره تيت او پرک (منتشر) شئ، او په معمولي حيثيت سره د ښار له مختلفو دروازو ځخه ننوځئ، نه چې خامخا د عوام الناسو له جانبه تاسې نظر شئ، او له دې سره يې متصل دغه وفرمايل چې: د کومې چارې او تدبير په کولو سره هم هيڅوک د قضا او قدر فيصلې نشي ګرځولی، په ګردو کائناتو کې يواځې د پاک الله حکم چليږي، ځمونږ دغه ګرد انتظامات د الله تعالى د حکم په مقابل کې بېکاره دي.

هو ! تدبير او چاره لټول هم د هغه په حکم سره کولی شي، ځکه چې هغه يې راجائز درولي دي، انسان ته لازم دي چې خپل د ژغورنې او ساتنې تدبير وکړي، مګر اعتماد او توکل دې يواځې پر پاک الله ولري، ګواکې دغه خبره يې خپلو ځامنو ته واورولې، چې تاسې هم ځما په شان د زړه له کومې (منځ) د الله تعالى پر حفاظت متوکلان اوسئ، او تش په تدابيرو مه غره کيږئ. !.

وَلَمَّا دَخَلُوا مِنْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ أَبُوهُمْ مَا كَانَ يُغْنِي عَنْهُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا حَاجَةً فِي نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضَاهَا وَإِنَّهُ لَذُو عِلْمٍ لِمَا عَلَّمْنَاهُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦٨﴾

او کله چې ننوتل دوی (مصر ته) له هغه ځايه چې امر کړی وو دوی ته پلار د دوی (چې له مختلفو دروازو ننوځئ !)؛ نه وو دغه ننوتل له ښلو ښلو دروازو چې دفع کړي له دوی نه قضا د الله ځخه هيڅ ځيز، ليکن يو حاجت چې په نفس د يعقوب کې وو اداء يې کړ هغه، او ښکه دغه (يعقوب) خامخا خاوند د پوهې وو په سبب د دې چې خبردار کړی وو مونږ دی، ليکن زيات د خلقو نه پوهيږي (په دې چې اوړي تقدير په تدبير).

وَلَمَّا دَخَلُوا عَلَىٰ يُوسُفَ آوَىٰ إِلَيْهِ أَخَاهُ قَالَ إِنِّي أَنَا أَخُوكَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٦٩﴾

او کله چې ورننوتل دغه (وروڼه) پر يوسف نو رانژدې يې کړ خپل ځان ته ورور خپل (بنيامين) وويل (يوسف په پټه بنيامين ته): زه يقيناً هم دا زه يم ورور ستا (يوسف) نو مه خفه کيږه په هغو کارونو چې وو دوی چې کول يې (پخوا له مونږ سره).

تفسير: يوسف عليه السلام (بنيامين) سره ممتازه معامله وکړه، او په پټه يې دی پوه کړ، چې زه ستا حقيقي ورور (يوسف) يم، هغه مظالم چې پر مونږ دغو علاّتي وروڼو کړي دي، چې زه يې له پلاره جلا (جدا) کړم، او په کوهي کې يې وغورځولم، او زه يې مريي ځرګند کړم، او ځمونږ پلار او نور يې ځما د فراق په صدمو کې مبتلا کړل، يا اوس د دې لوري د راتلو په وخت کې چې له تا سره کومه سختي کړېده، له دغه خبرو ځخه له سره مه خفه کيږه، اوس وخت رارسېدلی دی، چې ځمونږ دغه ګرد غمونه غلط او پورته او ورک شي، او وروسته له سختيو پاک الله تعالى مو راحت عزت او پت را په برخه کړی.

فَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ السِّقَايَةَ فِي رَحْلِ أَخِيهِ ثُمَّ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا الْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ ﴿٧٠﴾

نو کله چې تیار يې کړل دوی ته اسباب د سفر د دوی؛ نو کښښوده جام د اوبو څښلو (د باچا پټ) په بار د ورور خپل کې، نو غږ و کړ غږ کوونکي: او (خلقو د) قافلې ! (ودرېږئ چې) بېشکه تاسې خامخا غله يئ.

تفسير: يعنې کله چې د يوسف عليه السلام په حکم د دوی غلې يې وربار کړې، او د سفر ګرد سامان يې ور تيار شو، نو يو جام د اوبو څښلو يې د خپل ورور (بنيامين) په اسباب کې کښښود (چې د زرو يا زبرجدو په جواهرو چړاو وو، بيا چې غله ډېره ګرانه شوه نو هغه يې پيمانه کړه) څه مهال (وخت) چې کاروان (جوپه) له ښاره د باندې ووته؛ نو پيره داران د هغه جام په لټولو پسې ولوېدل، بالآخر هغوی ته پر دغې قافلې شبهه پيدا شوه، څرنګه چې قافله ښايسته لرې تللې وه، نو پيره دارانو ورپسې ناري سورې کړې، چې ای کاروانيانو ! ودرېږئ ! چې تاسې يقيناً غله په نظر راځئ.

قَالُوا وَأَقْبَلُوا عَلَيْهِمْ مَاذَا تَفْقِدُونَ ﴿٧١﴾

وويل (ورونو د يوسف) او مخونه يې راواړول پر دغو (نوکرانو د يوسف) چې څه شی دی هغه چې تاسې ورک کړی دی (او لټوئ يې؟).

تفسير: يعنې مونږ ولې خامخا غله بولئ؟ که ستاسې کوم شی ورک شوی وي؛ نو هغه راوښيئ مونږ خو چېرې لرې نه يو تللي، راشئ ځمونږ مالونه او اسبابونه راولټوئ !.

قَالُوا نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ وَلِمَنْ جَاءَ بِهِ حِمْلُ بَعِيرٍ وَأَنَا بِهِ زَعِيمٌ ﴿٧٢﴾

وويل دوی: ورکه کړې ده مونږ پيمانه د باچا، او دي هغه چا ته چې رايې وړه پيمانه بار د يوه اوښ، او زه په دې (بار) ضامن يم (چې ور يې کړم پيدا کوونکي ته).

تفسير: پيره دارانو وويل چې: مونږ د باچا د اوبو څښلو جام يا د غلې پيمانه لټوو، چې ورک شوی دی، که کوم سړی يې بې له حيلې او حجّته راحاضر او راوړي؛ نو د اوښ د څټې غَلَه به ورانعام او وروښنو، او زه يې ذمه وار يمه چې ور رسوم به يې.

قَالُوا تَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُمْ مَا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِي الْأَرْضِ وَمَا كُنَّا سَارِقِينَ ﴿٧٣﴾

وويل دوی: قسم دی په الله، خامخا په تحقيق پوهه يئ تاسې چې نه يو راغلي مونږ لپاره د دې چې فساد وکړو په ځمکه (مصر) کې، او هر ګز نه يو مونږ غلا کوونکي (د دې جام).

قَالُوا فَمَا جَزَاؤُهُ إِنْ كُنْتُمْ كَاذِبِينَ ﴿٧٤﴾

نو وويل (بيا دغو نوکرانو) چې څه به وي جزاء د هغه (جام يا د سارق) که (ښکاره) شوئ تاسې دروغجنان؟.

تفسير: محافظينو وويل چې: تاسې خوشې چتي (بېکاره) خبرې ولې کوئ؟ اوس مونږ ستاسې کالي (جامې) او اسباب لټوو، که دغه مسروقه مال له تاسې ووت؛ نو بيا به څه ووايئ؟ او څه به وکړئ؟ او سزا به مو څه وي؟.

قَالُوا جَزَآؤُهٗ مَنْ وُّجِدَ فِيْ رَحْلِهٖ فَهُوَ جَزَآؤُهٗ ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ۝

نو وويل (بيا ورونړو د يوسف) چې: سزا د دې (غلا نيول د) هغه چا دي چې ومونډلی شوه (دغه پيمانه) په بار د ده کې؛ نو همدی دی سزا د هغه، همداسې سزا ورکوو مونږ ظالمانو (غلو) ته.

تفسير: يعنې دغه چې غل مريي کيږي د مال د خاوند؛ په ابراهيمي شريعت کې د غلو سزا وه، يعنې له هر چا څخه چې د غلا مال ووځي؛ هغه به تر يوه کال پورې د غلام په حيثيت د مال د خاوند سره پاتې کيږي، د يوسف عليه السلام ورونړو سم له خپله شرعي قانونه سره بې له تأمّله د سزا ذکر وکړ، ځکه چې دوی پوره متيقن وو، چې مونږ غله نه يو، او نه د غلا مال امکان لري، چې له مونږ څخه ووځي، نو ځکه دوی په خپل اقرار سره ملزَم او ونيول شول، او بېرته د مصر ښار ته بوتلل شول، د باچا د دربار سره مخامخ بارونه يې تړې واړول.

فَبَدَاَ بِاَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ اَخِيْهِ ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا مِنْ وِّعَآءِ اَخِيْهِ ؕ كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوْسُفَ ؕ مَا كَانَ لِيَاْخُذَ اَخَاهُ فِيْ دِيْنِ الْمَلِكِ اِلَّاۤ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ؕ وَفَوْقَ كُلِّ ذِيْ عِلْمٍ عَلِيْمٌ ۝

نو شروع وکړه (يوسف يا جارچي په لټولو د) بارونو د دوی ړومبی له باره د ورور د ده (لپاره د دفعې د تهمت، نو بيا يې ونه موند په هغو کې) بيا يې را وويستله دغه (پيمانه) له باره د (سکه) ورور خپل، همدارنګه چل ښوولی وو مونږ يوسف ته، نه وو دغه (يوسف) چې ونيسي ورور خپل په دين (قانون) د باچا (مصر) کې مګر چې اراده وفرمايله الله (دغه چل يې وروښود)، پورته کوو مونږ (په علم او حکمت سره) مرتبې د هر چا چې اراده وفرمايو مونږ، او له پاسه د هر خاوند د علم لوی عالم دی.

تفسير: يعنې د دغو ويناوو څخه وروسته محافظينو دوی د مصر عزيز يوسف ته بوتلل، او دغه ګرده پېښه يې ور واوروله، يوسف عليه السلام د تفتيش او تحقيق امر صادر کړ، ړومبی يې د نورو ورونړو د بارونو په سپړلو شروع وکړه، او د دوی څټې بسترې څوړې او نور يې وليدل، خو له دوی ځنې هغه جام را ونه ووت، بالآخر د بنيامين د اسبابو د لټولو وار راغی، او هغه جام ترې راووت.

﴿كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوْسُفَ ؕ مَا كَانَ لِيَاْخُذَ اَخَاهُ﴾ الآيه ـ يعنې د ده د ورونړو له ژبې څخه پخپله دغه خبره راووته، چې له هر چا څخه چې دغه مال ووځي، هغه غلام وګرځوه ! نو پر هم دغې ونيول شو، که نه دغه خو د مصر د حکومت قانون نه وو، که داسې تدبير نه کېده چې پخپلو اقرارونو کې راګېر شي؛ نو د مصري قانون له مخې هيڅ يو داسې کوم صورت چې د هغه له مخې د بنيامين د بېرته ستنولو (راواپس کولو) سند کېدی شو؛ نه وو موجود.

﴿نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ﴾ يعنې د هر چا په نسبت چې اراده وفرمايي؛ حکمت او تدبير ورښيي، يا په خپل لطيف تدبير سره لوړتيا ورکوي، وګوره هغه ځلميان چې په غلا سره يې له خپله پلاره يوسف غلا کړ، او په څو روپو يې وپلوره (خرڅ کړ)؛ نن د غلو په حيثيت د يوسف په مخ کې و لاړ دي، ښايي په دې ډول سره د دوی د پخوانيو غلطيو کفاره وي.

قَالُوٓا۟ إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُۥ مِن قَبْلُ ۚ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِى نَفْسِهِۦ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ۚ قَالَ أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۖ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ﴿٧٧﴾

نو وويل (ورونو د يوسف): كه غلا وكړه دغه (بنيامين؛ نو هيڅ عجيبه نه ده، ځكه چې) پس په تحقيق سره غلا كړې وه (سكني) ورور د ده هم پخوا له دې نه، نو پټه وساتله دغه (خبره) يوسف په نفس خپل كې او ښكاره يې نه كړه (هغه خبره) دوی ته، وويل (يوسف پټ په خپل زړه كې) چې: تاسې ډېر بد يئ له جهته د مرتبې، او الله ښه عالم دی په هغه خبره چې تاسې يې بيانوئ (په حق د يوسف كې).

تفسير: دغه اشاره د يوسف عليه السلام په لوري ده، دوی د خپل پاكی ښوولو لپاره محض د ناحقه ويلو او عناد څرګندولو (ښكاره كولو) لپاره د «بنيامين» جرم پوخ كړ، او د دومره مودې له تېرېدلو څخه وروسته هم پر معصوم يوسف عليه السلام باندې د دروغو الزام اړولو څخه ونه شرمېدل.

مفسرينو په دغه موقع كې ډېرې قصې بيان كړې دي، چې د هغو په لوري د يوسف عليه السلام ورونو د غلا لفظ كې اشاره كړې وه، او د هغوی دنقل حاجت دلته نشته.

﴿فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِى نَفْسِهِۦ﴾ الآيه ـ يعنې سره د داسې سخت لفظ اوريدلو بيا هم يوسف عليه السلام خپل ځان ساته، ځكه چې د الله تعالى حكمت د دوی د پټې خبرې په څرګندېدلو او افشاء مقتضي نه وه، يوسف عليه السلام دغه خبره هم پخپل زړه كې پټه وساتله، او پخپل ځواب كې يې د دوی د اتهام حقيقت ور څرګند نه كړ، بلكه پخپل زړه كې يې وويل: ﴿أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۖ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ﴾ يعنې بالعكس غله پر كوتوال خوله آچوي، او تاسې ما هم غل بولئ، حال دا چې تاسې داسې يوه غلا كړې ده، چې خپل ورور مو له پلاره غلا او ناحقه مو هغه په څو روپيو ويړيا سودا كړی دی، باقي ځما د غلا حال خو پاك الله ته معلوم دی.

ځينو مفسرينو له ﴿شَرٌّ مَّكَانًا﴾ الآيه ـ څخه داسې مطلب اخيستی دی؛ چې يوسف عليه السلام هغوی ته خطاب كوي، چې تاسې خورا ډېر بد خلق يئ، اوس خو مو وويل چې: ﴿وَمَا كُنَّا سَٰرِقِينَ﴾ «مونږ له غلو څخه نه يو» اوس چې مو د يوه ورور له كاليو څخه هغه مال راڅرګند شو، هغه سره هغه بل بېګناه ورور يې هم ملوّث كوئ، الله تعالى ښه پوهيږي چې تاسې پخپلې دغې وينا كې تر كوم ځای پورې رښتين يئ، همغه به تاسې ته د دغه غلط بيان سزا دركوي.

(كله چې يوسف عليه السلام «بنيامين» خپلو سړيو ته وركړ؛ نو ورونه يې په زاری شول او)

قَالُوا۟ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْعَزِيزُ إِنَّ لَهُۥٓ أَبًا شَيْخًا كَبِيرًا فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُۥٓ ۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٧٨﴾

وويل دوی: ای عزيزه ! بېشكه ده لره يو پلار دی زور ډېر معمّر (چې پس له يوسفه له ده سره مينه كوي)، نو ونيسه يو له مونږه په ځای د ده (يرغمل او دی راپرېږده)، بېشكه مونږ وينو تا له احسان كوونكو څخه.

قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ أَن نَّأْخُذَ إِلَّا مَن وَجَدْنَا مَتَٰعَنَا عِندَهُۥٓ ۖ إِنَّآ إِذًا لَّظَٰلِمُونَ ﴿٧٩﴾

وويل (يوسف عليه السلام ورونو خپلو ته): پناه غواړو په الله پورې چې ونيسو مونږ (بېګناه) مګر هغه څوك چې موندلي دي مونږ اسباب خپل په نزد د هغه، (كه ونيسو په ځای د هغه بل څوك)؛ نو مونږ به په هغه وخت كې خامخا له ظالمانو اوسو.

تفسير: يعنې مونږ پر الله تعالى له دې نه پناه نيسو، چې بې له سببه د يوه په ځاى بل ونيسو، مونږ خو يواځې همغه سړى راستنوو (واپس کوو) چې له هغه سره مو خپل ځيز موندلى دى، او هغه «بنيامين» دى، چې د عيني وروروليٰ لامله به له مونږ سره پاتې کيږي.

دلته هم د ﴿إِلَّا مَن وَجَدْنَا مَتَاعَنَا عِندَهُ﴾ په ځاى «الا من سرق» نه دى ويلى، چې لنډه او مختصره وه، ځکه چې هغه له واقع څخه مخالفه وه، او که د هغه په ځاى بل څوک ونيسو؛ نو بېشکه چې مونږ ستاسې په فتوى کې خامخا له ظالمانو به اوسو په ابراهيمي دين کې، ځکه چې دى خو مونږ ستاسې په فتوى نيولى دى، يعنې که د مجرم په بدله کې بل کوم بې قصوره ونيسو؛ نو ستاسې له خياله او قانونه مخالف او غلط له انصافه يو کار دى.

فَلَمَّا اسْتَيْـَٔسُوا۟ مِنْهُ خَلَصُوا۟ نَجِيًّا ۖ قَالَ كَبِيرُهُمْ أَلَمْ تَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ أَبَاكُمْ قَدْ أَخَذَ عَلَيْكُم مَّوْثِقًا مِّنَ ٱللَّهِ وَمِن قَبْلُ مَا فَرَّطتُّمُونِى يُوسُفَ ۖ فَلَنَ أَبْرَحَ ٱلْأَرْضَ حَتَّىٰ يَأْذَنَ لِىٓ أَبِىٓ أَوْ يَحْكُمَ ٱللَّهُ لِى ۖ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَـٰكِمِينَ ﴿٨٠﴾

نو کله چې ناامیده شول دوی له دغه (یوسف په نه قبلولو د سوال د خلاصي د بنیامین)؛ نو ګوښه (بېل) شول دوی په دې حال کې چې مشوره کوونکي وو (پخپلو منځونو کې)، وویل مشر د دوی (په عمر کې یا په فکر کې): آیا نه پوهېږئ چې بېشکه پلار ستاسې په تحقیق اخیستې وه له تاسې (په ېرته بیولو د بنیامین) سخته وعده له وعدو د الله (په حفظ د بنیامین کې او اوس دا حادثه راپېښه شوه)، او پخوا له دې نه تقصیر کړى وو تاسې په حق د یوسف کې، نو له سره به زه نه خوځېږم له دې ځمکې (مصر) څخه تر هغه پورې چې اذن راکړي ماته پلار ځما (په رجوع سره کنعان ته) یا حکم وکړي الله ځما لپاره (په وتلو سره له مصره، یا په خلاصېدو د ورور ځما)، او همدغه (الله) ډېر غوره د حکم کوونکو دی.

تفسير: ﴿مَا فَرَّطتُّمُونِى﴾ کې «ما» زائده ده، ځینې وایي: مصدریه ده، او کیږي چې موصوله شي، کله چې دوی له یوسف علیه السلام څخه دغه ځواب واورېد، او مایوس شول؛ نو له ډلې څخه ګوښې (بېل) شول، پخپلو منځونو کې یې سره مشوره وکړه، د اکثرو رأیه پر دغه قرار ونیوه، چې ښایي وطن ته ېرته لاړ شو، د دوی په منځ کې هغه ورور چې د عمر یا د عقل یا د نورو وجوهو په اعتبار مشر وو، ویې ویل چې: مونږ به خپل پلار ته په کومو سترګو او مخ سره مخامخ شو؟ چې هغه له مونږ څخه عهد اخیستی وو، او د هغه ځواب به څه ووایو؟ یو تقصیر خو له مونږ څخه پخوا له دې نه د یوسف علیه السلام په معامله کې شوى دى، چې د هغه اثر تر نن ورځې پورې موجود دى، اوس که مونږ (بنیامین) هم دلته پرېږدو، او ټول لاړ شو؛ نو ډېره سخته بې غیرتي او بې حمیّتي به وي، نو واضح دې وي چې زه خو له سره له دې ځایه هیڅېرې خوځېدونکى نه یم، تر څو چې خپل لوى آبا ماته د ېرته راتللو حکم راکړي، یا په دغه منځ د پاک الله تعالى له لورې بله کومه فیصله وشي، مثلا له تقدیره ځما د مړ ک نېټه پوره شي او مړ شم، یا په بل تدبیر سره (بنیامین) ته نجات ورکړم.

تنبيه: دغه ویونکى به غالبا همغه ورور وي، چې د یوسف علیه السلام په معامله کې یې ډومبى هم پسته مشوره ورکړې وه چې ﴿لَا تَقْتُلُوا۟ يُوسُفَ﴾.

ٱرْجِعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَبِيكُمْ فَقُولُوا۟ يَـٰٓأَبَانَآ إِنَّ ٱبْنَكَ سَرَقَ ۖ وَمَا شَهِدْنَآ إِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حَـٰفِظِينَ ﴿٨١﴾

بېرته لاړ شئ تاسې پلار خپل ته نو ووايئ (ورته) ای پلاره ځمونږ ! په تحقيق ځوی ستا (بنيامين) غلا وکړه، او مونږ نه وو ويلی بل شی مګر هغه مو وويل چې پرې خبر وو (چې د باچا جام ووت له باره د ده)، او نه وو مونږ پټ کار لپاره ساتونکي.

تفسير: يعنې ما هم دلته پرېږدئ، او تاسې ګرد لاړ شئ او د خپل پلار په حضور کې عرض وکړئ، چې دغسې يوه واقعه راپېښه شوه، چې له سره يې توقع نه وه، او نه وو مونږ د پټ کار ساتونکي چې دغه جام پخپله بنيامين پټ کړی وو، او که بل چا د ده په بار کې ايښی وو؟ .

شاه صاحب ليکي: «يعنې مونږ خو له تاسې سره پر خپلې پوهې قول او عهد کړی وو، او له دې نه نه وو خبر چې (بنيامين) به غلا کې نيول کيږي، يا مونږ له خپل دين سره سم د غله د نيولو او ساتلو لار وروښوولې، او له دې نه نه وو خبر چې ځمونږ ورور پخپله غل دی».

وَسْـَٔلِ الْقَرْيَةَ الَّتِيْ كُنَّا فِيْهَا وَالْعِيْرَ الَّتِيْٓ اَقْبَلْنَا فِيْهَا ۭ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ۝۸۲

او پوښتنه وکړه پخپله د هغې قريې (د مصر يا بل کوم ورته نژدې کلي ځخه) چې وو مونږ په هغه کې او (پوښتنه وکړه) له هغه کاروانه چې مونږ مخ کړی وو (راغلي وو کنعان ته) په دغه (قافله) کې، او بېشکه خامخا مونږ صادقان يو.

تفسير: يعنې تاسې يو معتبر سړی ولېږئ، او له هغو کليو ځخه د دغې خبرې ښه تحقيق وکړئ، چې هلته دغه واقعه پېښه شوې ده، او اوس بېرته راغلي دي، نو تاسې ته به دغه خبره بيخي ثابته شي، چې مونږ پخپله په دغې وينا کې بالکل رښتيني يو.

قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ۭ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ۭ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَنِيْ بِهِمْ جَمِيْعًا ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۝۸۳

وويل (داسې نه ده چې تاسې يې وايئ) بلکه ښايسته کړی دی تاسې ته نفسونو ستاسې يو کار (چې اراده مو ورته کړې وه)، نو (اوس کار ځما) صبر دی بهتر، نژدې دی دا چې الله راولي ماته دوی ټول، بېشکه دغه الله جل جلاله هم دی دی ښه عالم (په پټو او ښکاره وو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي.

تفسير: د ﴿فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ﴾ ترجمه مفسرينو په څو ډوله سره کړې ده، چې د هغې نه دلته ځنې ذکر کيږي:

(۱): «پس ماته هغه صبر پکار دی، چې هيڅاته به څه نه وايم».

(۲): «نو صبر ځما ښه صبر دی».

(۳): «پس کار ځما صبر ډېر ښه دی»، د اول ځلې بې اعتباری لامله دا ځلې هم يعقوب عليه السلام د خپلو ځامنو پر خبرو اعتبار ونه کړ، ليکن د نبي الله کلام کله دروغ کېدی شي، ځکه چې په واقع سره دغه خبرې د ده ځامنو له ځانه جوړې کړې، او پخپله يوسف هم د ده ځوی وو، کذا في الموضح، ګواکې د «لکم» خطاب د ځامنو د جنس په لوري وشو.

وَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰٓاَسَفٰى عَلٰى يُوْسُفَ وَابْيَضَّتْ عَيْنٰهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيْمٌ ﴿۸۴﴾

او مخ وګرځاوه (یعقوب) له دغو (ځامنو خپلو) نه، او ویې ویل: أی افسوسه او غم ځما پر (بېلتون د) یوسف (راشه دغه دې وخت دی)، او تکې سپینې شوې دواړه سترګې د دغه (یعقوب) له غمه؛ نو دی ډک وو له قهره (او پټ ځغموونکی وو).

تفسیر: د دې نوي زخم له رسېدلو څخه د ده هغه پخوانی زخم بیا تازه شو، او بې اختیاره یې له خولې څخه دا چغه ووتله: ﴿يٰٓاَسَفٰى عَلٰى يُوْسُفَ﴾ «های افسوس پر یوسف»، یعنې ای افسوسه ځما پر یوسف راحاضر شه دغه دې وخت دی، او تکې سپینې شوې دواړه سترګې د یعقوب علیه السلام له غمه، یعنې بې رونقه یا بې نوره شوې «علی اختلاف القولین»، پس دغه یعقوب ډک وو په زړه کې د قهره د ځامنو نه، خو وئ ځغملو او پټ یې وساتلو.

په حدیث کې راغلی دي: «نحن معاشر الأنبیاء أشد بلاء ثم الأمثل فالأمثل» یعنې د انبیاوو جماعت د پاک الله له جانبه په ډېرو سختو امتحانونو کې مبتلا کولی شي، بیا د امتحانونو ډېر اقسام دي، حق تعالی هر نبي سم له خپله حکمت او د ده له استعداد سره سم په هر امتحان سره یې چې اراده وفرمایي؛ اخته او مبتلا کوي یې.

قَالُوْا تَاللّٰهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوْسُفَ حَتّٰى تَكُوْنَ حَرَضًا اَوْ تَكُوْنَ مِنَ الْهٰلِكِيْنَ ﴿۸۵﴾ قَالَ اِنَّمَآ اَشْكُوْا بَثِّيْ وَحُزْنِيْٓ اِلَى اللّٰهِ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۶﴾

وویل (ځامنو د یعقوب پلار خپل ته) قسم دی پر الله چې همېشه یې ته چې یادوې یوسف (په زاری او فریاد سره) تر هغه پورې چې شې ته قریب الموت (ناجوړ له ډېره غمه) یا شې ته له هلاک شوو نه. وویل (یعقوب): بېشکه همدا خبره ده چې شکایت کوم (او ژاړم د لوی او واړه) غم او خفګان خپل طرف د الله ته (یواځې)، او پوهېږم زه له جانبه د الله په هغه څه چې تاسې پرې نه پوهېږئ (لکه حیات د یوسف).

تفسیر: په «موضح القرآن» کې راغلي دي: «آیا تاسې ماته صبر رابښیئ؟» بې صبره خو هغه څوک دی چې د مخلوق په مخ کې د خالق د رالېږلي شوي درد شکایت وکړي، زه خو له هغه سره مناجات کوم، چې درد او رېږ (تکلیف) یې راکړی دی، او پر دی هم نه پوهېږم چې یوسف علیه السلام ژوندی دی، ا وضرور به ورسره وینم، او د ده هغه لیدلی خوب هرومرو پوره کېدونکی دی، دغه ځما ابتلاء او ازموینه ده، وبه ګورم چې تر کومه حده پورې دغه ابتلاء ځنډېږي؟».

يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ وَاَخِيْهِ وَلَا تَايْـَٔسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ ۭ اِنَّهٗ لَا يَايْـَٔسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۷﴾

ای ځامنو ځما ! لاړ شئ نو لټونه وکړئ له (حاله د) یوسف او له حاله د ورور د ده، او مه ناامیده کېږئ له رحمته د الله، بېشکه شان دا دی چې نه ناامیده کیږي د الله له رحمت څخه مګر قوم کافران (منکران له الله او صفاتو د الله).

تفسیر: یعنې د الله تعالی له مهربانی او فیضه ناامیده کېدل د کافرانو دود دی، چې هغوی د ده له لوی رحمت او کامل قدرت څخه صحیح معرفت نه لري، د یوه مسلمان کار دا وي چې که د غرونو د پښتو په اندازه او د سمندر د چپو او موجونو په قدر مأیوس کوونکي حالات هم ورپېښ شي؛ خو بیا هم د پاک الله د رحمت امیدوار اوسي، او په امکاني

کوښښ کې بې همتي او بې زړه توب نه کوي، نو ځئ د يوسف عليه السلام سراغ او پته ولګوئ، او د ده ورور (بنيامين) د خلاصولو ذرائع ولټوئ، د الله تعالى له رحمته هيڅ لرې نه دى، چې مونږ بيا سره راټول کړي، د درېيم ورور ذکر يې ښايي د دې لأمله ونه فرمايه، چې هغه پخپل اختيار يواځې د بنيامين له سببه ستون (واپس) شوى وو، که بنيامين خلاص شي، نو هغه به بلا سببه ولې هلته پاتې کيږي.

(بيا ورونه د يوسف عليه السلام، درېم کرت د يعقوب عليه السلام له حضوره سره له څه بضاعته او مکتوب مصر ته ورغلل).

فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهْلَنَا الضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُّزْجَاةٍ فَأَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا ۖ إِنَّ اللَّهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِينَ ﴿٨٨﴾

نو کله چې ورننوتل ورونه پر يوسف؛ نو وويل دوى چې: اى عزيزه ! رسېدلې ده مونږ ته او اهل (عيال) ځمونږ ته سختي (او لوږه)، او راوړې ده مونږ پنګه (سرمايه) ناقصه، نو پوره راکړه مونږ ته پيمانه، او خيرات وکړه پر مونږ (په قبول د نقصان يا تزييد د احسان)، بېشکه چې الله جزاء (بدل) د دارينو ورکوي خيرات ورکوونکو ته.

تفسير: دوى سم د خپل پلار له ښوونې سره د مصر په لوري بيا روان شول، څرنګه چې د يوسف عليه السلام درک او پته نه وه معلومه، نو ړومبى د هغه چا (بنيامين) د نجات په فکر کې ولوبدل، چې ځاى يې معلوم وو، او څرنګه چې د قحط له سببه غلې ته هم د دوى ډېر ضرورت وو، نو داسې يې سره وټاکل، ښايي چې عزيز ته په دې لوري هم توجه ورکړو، که د راکړې او ورکړې په معاملو کې مو عزيز پوست او نرم وموند؛ نو د (بنيامين) په نسبت به هم ورسره خبره کوو.

کله چې ړومبى خبرې دوى له عزيز سره داسې وکړې، اى عزيزه ! په دې ورځو کې د قحط له سببه پر مونږ او ځمونږ پر کورنۍ ډېر زيات تکليف او زحمت تېريږي، ځمونږ د کورونو مال او اسباب ګرد وپلورل (خرڅ) شول، اوس ډېره لږه بېکاره او حقيره پنګه (سرمايه) پاتې ده، چې هيڅوک يې نه اخلي، هغه مو د غلې پيرودلو (اخستلو) لپاره له ځان سره راوړې ده، ستا د ښو اخلاقو، له لويو مکارمو، او له پخوانيو مهربانيو څخه هيله لرو، چې ځمونږ دغو ناقصو شيانو ته مه ګورئ، او د دغو لږو شيانو په بدل کې د پخوا په شان د غلې پوره مقدار مونږ ته امر وکړئ چې رايې کړي، دغه رعايت په حقيقت کې يو راز (قسم) خيرات دى، چې تاسې يې پر مونږ کوئ، برسېره په دې د خيرات په توګه هم څه شى راکړئ چې الله تعالى درسره ښه وکړي.

يوسف عليه السلام د دغه احوال له اورېدلو څخه بې اختياره په ژړا شو، او د ده د شفقت، رحم، عنايت او زړه سوى چينه د ده له زړه څخه وخوټېده، او د سترګو له لارې په بهېدلو شوه، او په دغه وخت کې د پاک الله په حکم سره ده خپل ځان دوى ته ورښکاره کړ، چې زه څوک يم؟ او تاسې چې کومه معامله له ما سره کړې وه، وروسته له هغې زه اوس کومې مرتبې ته رسېدلى يم؟ وروستى آيت د دغه اظهار لپاره تمهيد دى.

قَالَ هَلْ عَلِمْتُم مَّا فَعَلْتُم بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذْ أَنتُمْ جَاهِلُونَ ﴿٨٩﴾

وويل (يوسف عليه السلام ورونو خپلو ته) آيا پوهېږئ تاسې چې څه فعل کړى وو تاسې له يوسف او له ورور د ده سره (چې خوار، زار او رټلى به مو ساته) کله چې تاسې ناپوهان وئ (له عاقبت د فعل خپل).

تفسیر: یعنې د دې دواړو په منځ کې مو بېلتون (جدایي) وغورځوله، او له دغو دواړو سره مو ضد او عناد وکړ، په هغه وخت کې چې تاسې ناپوهان وئ، یعنې د ځلمیتوب په نشو کې بې سده (بې هوشه) وئ، او بې التفاته له قباحته د دې فعل یا له عقوقه د پلار خپل او له حقوقه د وروروالی، او دا یې په طریقه د نصیحت ورته ویل، نه لپاره د رابښکلو او شرمولو.

الله أکبر، دغه د صبر او مروت او اخلاقو ډېره لوړه مرتبه ده، چې د دغه ټول عمر د ربړو (او تکلیفونو) او شکایتونو لپاره یو توری یې هم پخپله ژبه رانه وړ، او دومره سوال یې هم د دې لامله وکړ، څو دوی پخپلو زړونو کې شلهاوو کلونه پخواني احوال یو ځلې مستحضر کړي، چې د ماضي او حال موازنې څخه د الله تعالی د هغو احساناتو حقیقت ښه روښانه شي، چې پر یوسف علیه السلام له هغو مصائبو او حوادثو څخه وروسته شوی دی.

قَالُوْٓا ءَاِنَّكَ لَاَنْتَ يُوْسُفُ ؕ قَالَ اَنَا يُوْسُفُ وَهٰذَآ اَخِيْ ۫ قَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا ؕ اِنَّهٗ مَنْ يَّتَّقِ وَيَصْبِرْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝٩٠

وویل (ورونو د یوسف): آیا بېشکه ته چې یې خامخا دا ته یې یوسف؟، و یې ویل: (هو !) همدا زه یم یوسف او دغه (بنیامین) مې سکه ورور دی، په تحقیق احسان فرمایلی دی الله پر مونږ باندې (په سلامت او کرامت)، بېشکه شان دا دی هر څوک چې وویریږي له الله او صبر وکړي (په طاعت او عبادت او له معصیت)؛ نو بېشکه الله نه ضایع کوي اجر د نیکوکارانو.

تفسیر: ممکن دي چې له دغه سوال څخه دوی ډېر سخت ویریدلي وي، چې وروسته له دومره زیاتې مودې څخه دغه د کور پتې چا ورڅرګنده (ښکاره) کړې ده، بیا د مصر عزیز د یوسف علیه السلام له قصې سره څه کار لري؟ خرنګه چې دوی د یوسف علیه السلام فوق العاده مراحم او له (بنیامین) سره یې خصوصي سلوک لا له پخوا څخه لیدلي وو؛ نو دغه سوال به دفعتاً د دوی اذهان دغه لوري ته منتقل کړي وي، چې نه یوسف علیه السلام به چې مونږ پر مصري کاروان پلورلی (خرڅ کړی) وو همدغه وي، کله چې دغه لوري ته متوجه شوي وي، نو په غور سره به یې کتلي وي.

او ممکن دي چې دا ځلې یوسف علیه السلام هم خپل ځان په واضح ډول سره دوی ته وړاندې کړی وي، یا یې تصریحا ویلي وي چې زه یوسف علیه السلام یم.

الغرض چې دوی سخت متعجب او حیران شول، او په حیرت سره یې پوښتنه وکړه: ﴿ءَاِنَّكَ لَاَنْتَ يُوْسُفُ ؕ﴾ «رښتیا اوښیه آیا همدا ته یوسف یې؟»، نو وویل یوسف علیه السلام چې: هو ! په رښتیا سره همدا زه یوسف یم، او دغه مې سکه ورور دی (بنیامین) یعنې له هغه څخه چې تاسې زه ښېل کړی وم دا دی اوس له ما سره ناست دی.

قَالُوْا تَاللّٰهِ لَقَدْ اٰثَرَكَ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَاِنْ كُنَّا لَخٰطِـِٕيْنَ ۝٩١

وویل (ورونو د یوسف هغه ته) قسم دی پر الله چې خامخا په تحقیق غوره کړی یې ته الله پر مونږ (په صورت او سیرت) ا وبېشکه چې وو مونږ خامخا له خطا کوونکو (په هغه عمل چې کړی وو مونږ له تا سره).

تفسیر: یعنې الله جل جلاله تاته له هر حیثیته پر مونږ درجه او فضیلت درکړی دی، ته د همدې مقام وړ او لایق وې، مونږ له خپلې غلطي او تیري ستا قدر ونه پېژنده، بالآخر ستا خوب رښتیا او ځمونږ حسد او رڅه (کینه) بېکاره شوه.

قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿۹۲﴾

وويل (يوسف ورونو خپلو ته) نشته هيڅ ملامتي (زور او نه الزام له جانبه ځما) پر تاسو نن ورځ، مغفرت دې وکړي الله تاسې ته (چې مقر شوئ په ګناه خپلې) او همدی دی ښه غوره مهربان د ټولو مهرباني کوونکو.

تفسير: يوسف عليه السلام له سره داسې اراده نه درلوده، چې دومره يوه خبره هم له خپلو ورونو څخه واوري، نو ويې فرمايل چې: دغه تذکرې مه کوئ ! زه نن پر تاسو هيڅ ملامتي نه اړوم، او ستاسې ګرد اغلاط مې دربخښلي دي، هغه لفظ چې ما ووايه؛ يواځې د الله تعالى د احسان او د صبر او تقوى د نتيجې د ظاهرولو په نيت سره مې ووايه، وروسته له نن ورځې ستاسې د تقصير ذکر به هم نه کيږي، زه دعا کوم چې پاک الله ستاسې دغه خطاوې چې کړي مو دي؛ در وبښي، ځکه چې هغه ډېر مهربان دی له ټولو مهرباني کوونکو، او دغه ځما مهرباني هم يوه پلوشه ده د ده د مهربانيو څخه.

کله چې يوسف عليه السلام د خپلو ورونو د تسلي او ډاډګيرنې څخه وزګار شو؛ نو د خپل مهجور او سپينږيري پلار له حال څخه يې هم تپوس او پوښتنه وکړه، چې څرنګه دی؟ دوی وويل چې: له ډېرې ژړا يې سترګې رندې شوي دي، نو يوسف عليه السلام دوی ته وويل:

اذْهَبُوا بِقَمِيصِي هَٰذَا فَأَلْقُوهُ عَلَىٰ وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيرًا ۖ وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿۹۳﴾

يوسئ قميص ځما دغه نو واچوئ هغه پر مخ د پلار ځما؛ نو وبه ګرځي بيا ليدونکی او راشئ تاسې ماته سره له اهله خپل ټول.

تفسير: يعنې زه په موجوده حالت کې د شام په لوري نشم درتلی، تاسې لاړ شئ، او والدين سره له ټولو ګردو نورو متعلقينو مې دلته راولئ، ځکه چې ډېر مدّت پر مونږ او تاسې باندې غمونه او مشقتونه تېر شوي دي، نو اوس له خيره سره دلته راشئ، چې له ما سره لږ څه معاش وګورئ، او مونږ ګرد سره يو ځای شو، او يو د بل له وصاله او ګډون څخه متمتّع او ګټور شو، څرنګه چې د خپل لوی پلار په نسبت د وحيې په وسيله، يا د ورونو له بيانه دا ورمعلومه شوې وه چې بصارت يې نه دی ورپاتې، يا يې په ليدلو کې څه فرق پيدا شوی دی، نو ځکه يې خپل قميص ورکړ، او ويې فرمايل چې دا قميص ځما له ځان سره يوسئ، او ځما د پلار په سترګو يې واچوئ، نو بيا به يې بصارت پخپل حال راشي.

شاه صاحب ليکي: «د هر مرض لپاره الله تعالى يو دوا مقرره کړې ده، څرنګه چې د ده بصارت د يوه سړي له بيلتون څخه تللی وو؛ نو د هغه د بدن د يوه خيز له موندلو څخه هغه بېرته روغ شو، دغه د يوسف عليه السلام معجزه وه»، کله چې يوسف عليه السلام خپل قميص ورکړ او اسباب او خوراک د لاړې يې لپاره د پلار او د نورو متعلقانو تيار کړ، او ورونو ته يې وسپارل؛ نو دوی د کنعان په جانب متوجه شول.

وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ لَوْلَا أَن تُفَنِّدُونِ ﴿۹۴﴾

او کله چې بيا جلا (جدا) شو کاروان (له مصره) وويل پلار د دوی (يعقوب خپلو مصاحبينو ته په کنعان کې): بېشکه زه چې يم خامخا مومم بوی د يوسف که چېرې نسبت د کم عقلی (د زوړوالي) نه کوئ ماته.

تفسير: د الله تعالى قدرت ته ځير شئ (غور وکړئ) چې يوسف عليه السلام په مصر کې موجود دی، او يعقوب عليه السلام په کنعان کې، خو په دومره کلونو کې هيڅېرې يعقوب عليه السلام ونه ويل چې: د يوسف عليه السلام ښه وبرمه

رارسيږي، ځکه چې د پاک الله امتحان لا پای ته نه وو رسېدلی، اوس چې د پاک الله اراده د ده بللو ته غوټه شوې ده، او له هغه لوري کاروان له مصره د کنعان په لوري روان دی، او د يوسف عليه السلام قميص ورته سوغات او ارمغان دی، دلته د يوسفي قميص ښه وږمه يعقوب عليه السلام روح معطره کوي.

دا يوه واقعه لا څه ـ بلکه دغه ګرده قصه د قدرت د عجائبو يوه لويه مرقع ده، د يعقوب عليه السلام په شان يو مشهور معروف نبي عليه السلام په شام کې هستوګنه ولري، او د يوسف عليه السلام په شان يو جليل القدر ذات په مصر کې حکومت وچلوي، او يوسف عليه السلام وروڼه څو ځلې مصر ته راشي، او پخپله د يوسف عليه السلام کره مېلمانه شي، او سره له هغه د الله قدّوس جل جلاله غامضه حکمت او قاهره مشيئت دغه پلار او ځوی سره تر شلهاوو کلونو پورې بېل وساتي، او د وينې په اوښکو يې وژړوي، او خپل امتحان پرې تکميل کړي، جلت قدرته ! وعزّ سلطانه.

په هر تقدير نو وويل پلار د دوی يعقوب عليه السلام هغو حاضرينو ته چې په کنعان کې ورسره ناست وو چې: بېشکه خامخا زه مومم بوی د يوسف عليه السلام که نسبت د کم عقلۍ نه کوئ تاسې ماته، او داسې راته نه وايئ چې ته اوس زوړ شوی يې؛ نو فضول او چټې (بېکاره) خبرې کوې، يعنې د دغې خبرې په ويلو سره شرمېږم، ځکه چې د هغه پر کيفيت ستاسې فکر نه رسېږي، او تاسې ګرد به سره ووايئ چې دغه سپين ږيري ته وګورئ چې بيخي بې سده (بېهوشه) او پاګل شوی دی، او اپلټې وايي، او چټې (بېکاره) خبرې کوي، او د بوډاتوب خوبونه وينې.

قَالُوا تَاللّٰهِ اِنَّكَ لَفِيْ ضَلٰلِكَ الْقَدِيْمِ ﴿۹۵﴾

وويل (حاضرينو يعقوب ته) قسم دی پر الله بېشکه ته چې يې خامخا په همغه خطا او سرګردانۍ پخوانۍ خپلې کې (همغسې لا پروت) يې.

فَلَمَّآ اَنْ جَآءَ الْبَشِيْرُ اَلْقٰىهُ عَلٰى وَجْهِهٖ فَارْتَدَّ بَصِيْرًا ۚ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ ۚ اِنِّيْٓ اَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۹۶﴾

نو کله چې راغی زېری کوونکی نو واچوه ده هغه (قميص) پر مخ د دغه (يعقوب) باندې؛ نو وګرځېده ليدونکی، وويل (يعقوب): آيا نه وو ويلي ما تاسې ته چې بېشکه زه پوهېږم له (ښوونې د) الله په هغه څه چې نه پوهېږئ تاسې (چې حيات او ملاقات د يوسف او نورو دی).

تفسير: يعنې بينايي او ليدل يې بېرته وګرځېدل، او بيا لکه د پخوا هر شی به يې ليدلو، او بينا شو، نو وويل يعقوب عليه السلام هغو خلقو ته چې ملامتي يې پرې ويلې وه: آيا نه وو ويلي ما تاسې ته چې بېشکه زه پوهېږم له ښوونې د الله په هغه څه چې نه پوهېږئ تاسې چې حيات او ملاقات دی له يوسف عليه السلام او نورو سره، يعنې ما نه وو ويلي چې ښه بوی راځي؟ بالآخر ځما هغه خبره رښتيا شوه، يا يې خپلو ځامنو ته ويلي وو، چې د يوسف عليه السلام له لټولو څخه لاس مه اخلئ ! د پاک الله له رحمته دغه خبره لرې نه ده چې بيا مونږ ګرد سره راټول کړي،ګورئ ! چې همغه صورت را دمخه شو.

قَالُوْا يٰٓاَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَآ اِنَّا كُنَّا خٰطِـِٕيْنَ ﴿۹۷﴾

وويل (وروڼو د يوسف): ای پلاره ځمونږ ! مغفرت وغواړه له الله ځمونږ لپاره د ګناهونو ځمونږ، بېشکه چې مونږ وو خطا کوونکي (ګناهګاران ستا او د يوسف په حق کې).

قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي ۖ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٩٨﴾

وويل (يعقوب ځامنو خپلو ته): زر به مغفرت وغواړم تاسې ته له ربه خپله، بېشکه دغه (الله) همدی دی ښه بخښونکی (د خطياتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: يعنې صبر وکړئ ! چې د قبول ساعت او ګړۍ راشي، نو هلته به زه د خپل مهربان الله په دربار کې لاسونه پورته کوم، وايي د جمعې د شپې يا د تهجد د وقت په انتظار کې وو، يا يې غوښت چې وروسته د يوسف عليه السلام د بخښلو يا وروسته له ورتللو د مصره چې هلته به ټول په ګډه سره له الله تعالى ځخه غوښتنه کوو.

فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَىٰ يُوسُفَ آوَىٰ إِلَيْهِ أَبَوَيْهِ وَقَالَ ادْخُلُوا مِصْرَ إِن شَاءَ اللَّهُ آمِنِينَ ﴿٩٩﴾

نو کله چې رانغوتل دوی پر يوسف عليه السلام (په مانۍ او مجلس د يوسف عليه السلام)؛ نو رانژدې يې کړل ځان ته مور او پلار خپل، او وويل يوسف عليه السلام چې ننوځئ (ښار د) مصر ته که اراده وفرمايي الله حال دا چې په امن کې به شئ (له هرې سختۍ).

تفسير: له ښاره د باندې د خپل مور او پلار د استقبال او هرکلي او ښه راغلې لپاره ووت، خپل مور او پلار ته يې له خپل ځان سره نژدې ځای و رکړ، ځينې وايي چې د يوسف عليه السلام مور لا له پخوا ځخه مړه شوې، او دلته يې د تورۍ (خاله) ذکر دی.

خو په دې خبره هيڅ صحيح دليل نشته، او ظاهر د قرآنکريم د هغې په ژوندون دلالت کوي، لکه څنګه چې امام ابن جرير (رحمه الله تعالى) وايي، او ابن کثير (رحمه الله تعالى) وايي: «وهذا الذي نصره ابن جرير هو المنصور الذي يدل عليه السياق»، يعنې دا خبره چې ابن جرير (رحمه الله) ورته ترجيح ورکړې ده؛ همدغه قوي خبره ده، لکه څنګه چې د قرآن کريم د سياق ځخه څرګندېږي.

يوسف عليه السلام ګردو ته وويل چې: ښار ته لاړ شئ، او له قحط او سختۍ او مشقت او نورو شيانو ځخه اندېښنه مه کوئ، ان شاء الله تعالى بالکل په زړه جمعې او راحت او اطمينان اوسېږئ !.

وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا ۖ وَقَالَ يَا أَبَتِ هَٰذَا تَأْوِيلُ رُؤْيَايَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا ۖ وَقَدْ أَحْسَنَ بِي إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ السِّجْنِ وَجَاءَ بِكُم مِّنَ الْبَدْوِ مِن بَعْدِ أَن نَّزَغَ الشَّيْطَانُ بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِي ۚ إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِّمَا يَشَاءُ ۚ إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ﴿١٠٠﴾

او پورته يې کړل مور پلار خپل (کښېنول له ځانه سره) پر تخت خپل او پرېوتل (دغه «۱۱» وروڼه او والدين) دغه (يوسف طرف ته) سجده کوونکي، او وويل (يوسف): ای پلاره ځما ! دا (سجدې) بيان (تعبير) دی د هغه خوب ځما (چې ليدلی مې وو) پخوا له دې نه په هلکتوب کې، په تحقيق وګرځاوه دا خوب رب ځما حق (او رښتينی)، او په تحقيق احسان انعام يې کړی دی له ما سره کله چې راويې ايستم زه له بنديخانې او رايې وستئ تاسې له ميرې (صحرا نه مصر ته) وروسته له هغه چې فساد جګړه غورځولې وه شيطان په منځ ځما او په منځ د وروڼو ځما کې، بېشکه رب ځما چې دی باريک تدبير والا دی لپاره د هغه چا چې اراده وفرمايي، بېشکه الله همدی دی ښه عالم (په ټولو احوالو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: يوسف عليه السلام له خپل طرفه د خپلو والدينو تعظيم وكړ، او دوى يې پر خپل تخت كښېنول، ليكن څرنګه چې د پاك الله اراده پر دغه تللې وه، چې د يوسف عليه السلام تعظيم به پر دوى كوي؛ نو له هغه ځنې ممانعت د يوسف عليه السلام له لاسه كله پوره كېدى شو، نو سم د هغه وخت له دود او دستور سره مور او پلار او ټول وروڼه د يوسف عليه السلام په مخ كې په سجده ولوېدل.

دغه تعظيمي سجده وه، چې د حافظ عماد الدين ابن كثير (رحمه الله تعالى) له وينا سره د آدم عليه السلام له زمانې راهيسې د مسيح عليه السلام تر زمانې پورې جائزه وه، او يواځې محمدي شريعت هغه ناجائزه او حرامه وبلله، لكه چې ډېر احاديث پرې شهادت وركوي.

ځينو مفسرينو په دغه ځاى كې له سجدې ځنې د هغه متبادره معنى نه ده مراد كړې، او تش سر ښكته كول او يواځې لږ څه ټيټېدل تري اخلي.

ځينې وايي چې دغه سجده د يوسف عليه السلام لپاره نه وه، بلكه د يوسف عليه السلام له عظمت او عزت ليدلو لامله د پاك الله په دربار كې د شكر اداء كولو سجده وه، نو په دغه تقدير دغه لام به سببي وي، چې په ﴿وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا﴾ كې دى، يعنې د يوسف عليه السلام د عروج او اقتدار په سبب د پاك الله په دربار كې دوى د شُكراني سجدې وكړې.

رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ ۚ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ أَنتَ وَلِيِّي فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۖ تَوَفَّنِي مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ ﴿١٠١﴾

ای ربه ځما ! په تحقيق راكړې دې ده ماته څه برخه له باچاهۍ (تصرّف د مصر) او ښوولې دې دې ماته څه علم له تفسير او تأويل د خبرو (لكه تعبير د خوبونو بيان د كتابونو)، ای پيدا كوونكيه د اسمانونو او د ځمكې ! هم ته يې ولي (دوست واكدار كار جوړوونكى) ځما په دنيا او په آخرت كې، وفات كړه ما په دې حال كې چې مسلمان يم او يو ځاى مې كړه (په مرتبه او كرامت كې) له صالحانو سره.

تفسير: د دې سورت په اوله ركوع د تأويل الأحاديث تفسير ليكلى شوى دى، يا خو يې د لقاء الله په شوق كې في الحال د موت تمنّا وكړله، يا خو دا مطلب دى كله چې زه مرم ښايي چې موت په داسې حال كې راباندې راشي، چې زه په اسلام يعنې كامل تسليم او رضاء قائم اوسم.

تنبيه: په حديث كې راغلي دي چې: «هيڅ يو انسان دې د مصيبت او تكليف له وېرې د موت تمنّا نه كوي !»، له دې نه داسې مفهوميږي، چې د حب لقاء الله يا بل كوم صالح غرض لپاره د موت تمنّا كېدى شي، لكه چې د فرعون ساحرينو داسې دعا كړې وه: ﴿رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ﴾ يا مريمې ويلي وو: ﴿يَا لَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا﴾ (۱۶ جزء د مريم سورت (۲) ركوع (۲۳) آيت)، او د معاذ (رضي الله تعالى عنه) په حديث كې دي: «إذا أردت بقوم فتنة فاقبضني إليك غير مفتون».

د احمد په مسند كې حديث دى: «يكره الموت والموت خير للمؤمن من الفتن»، علي رضي الله عنه د فتن د هجومو په وخت كې دعا كړې وه: «اللهم خذني إليك فقد سئمتهم وسئموني»، كله چې امام بخاري جګړه د خراسان له امير سره ونښتله، نو دى داسې دعا كولو ته مجبور شو: «اللهم توفّني إليك»، په حديث شريف كې دي، چې د دجّال دخروج په وقت كې يو سړى به پر كوم قبر تيريږي، او د دغو فتنو او زلازلو له ليدلو څخه به ووايي: «يا ليتني مكانك»، كاشكې ای مړيه ! زه ستا په ځاى واى».

ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ اَجْمَعُوْٓا اَمْرَهُمْ وَهُمْ يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۰۲﴾

دغه (قصه د يوسف) له خبرو د غيبو ده چې وحيه کوو مونږ هغه تاته (ای محمده !) او نه وې ته (ای محمده !) له دغو (ځامنو د يعقوب) سره کله چې دوی راټول کړ فکر خپل (په غورځولو د يوسف په کوهي کې) حال دا چې دوی مکر فريب کولو (له يوسف سره نو چې تا غوندې امي په دې سره اخبار کوي؛ نو دغه اعجاز دی).

وَمَآ اَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۳﴾

او نه دي زياتره خلق او اګر که حرص وکړې ته (ای محمده ! په ايمان راوړلو د دوی) ايمان راوړونکي (عناداً).

تفسير: يعنې سره له دې چې ستاسې پر صداقت داسې ښکاره او واضح دلائل هم موجود دي، بيا هم زيات خلق هغه کسان دي چې په هيڅ ډول سره ايمان نه راوړي.

وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۴﴾

او نه غواړې (ای محمده !) له دوی څخه په دغه (ابلاغ د قرآن) هيڅ اجر (بدل، عوض)، نه دی دا قرآن مګر پند دی (له جانبه د الله) لپاره د ټولو خلقو (جن دی که انس).

وَكَاَيِّنْ مِّنْ اٰيَةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يَمُرُّوْنَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُوْنَ ﴿۱۰۵﴾

او ډېر دي له دلائلو (چې دلالت کوي په کامله قدرت او وجود د رب العزت او په استحقاق دهغه دعبادت) په اسمانونو او په ځمکه کې (چې دغه معاندين) تيريږي پرې (او په سترګو يې ويني) حال دا چې دوی له هغو نښو ځنې تل ځنګ کوونکي دي (چې نه په کې فکر کوي او نه ترې عبرت اخلي).

تفسير: يعنې همغسې چې د تنزيليه وو آيتونو په اورېدلو سره دوی ايمان نه راوړي؛ همداسې د تکوينيه وو آيتونو په ليدلو سره هم د الله تعالى د توحيد سبق نه زده کوي، اصلي خبره خو همدا ده، چې د دوی اورېدل او ليدل خوشې چټي (بېکاره) او محض سطحي دي، که په آيات الله کې دوی لږ څه غور او فکر چلولی وی؛ نو څه نه څه ګټه او فائده به ترې وررسېده، کله چې دوی فکر او تميز نه لري؛ نو ايمان به له کومه راوړي.

وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمْ مُّشْرِكُوْنَ ﴿۱۰۶﴾

او ايمان نه راوړي اکثر له دغو مشرکانو پر (وجود او خالقيت او استحقاق دعبادت يواځی د) الله مګر په دې حال کې چې دوی شريک نيوونکي (وي له الله سره د بل څيز په عبادت او بندګی کې).

تفسير: په ژبې سره ګرد وايي چې: خالق او مالک همغه الله تعالى دی، مګر سره له هغه دوی ځينې طواغيت د الله حصه داران ګرځوي، لکه چې د عربو مشرکانو به په تلبيه کې دا الفاظ ويل: «لبيک اللهم لبيک لا شريک لک، الا شريکا هو لک، تملکه وما ملک»، ځينې د هغه لپاره هلک او جوړې تجويز کوي، ځينې هغه روح او مادې ته اړ (مجبور) او

محتاج بولي، ځينو احبارو او رهبانانو ته يې د الله تعالى اختيارات ورکړي دي، ډېرو کسانو د تعزيه دارۍ، مجاورۍ، قبر پرستۍ، پير پرستۍ، د خسو او خاشاکو سره د توحيد صافه او پاکه چينه مکدّره او لوغړنه او خرابه کړې ده، ځومره داسې موحدين به پيدا کيږي، چې له ريا او هوا او هوس څخه پاک وي؟ الغرض دايمان دارۍ دعوى ډېره ګرانه ده، او داسې پاک، سوچه او چاندي مسلمانان ډېر لږ پيدا کيږي، چې د عقيدې او عمل په درجه کې د جلي او يا د خفي شرک ارتکاب نه کوي. (أعاذنا الله من سائر أنواع الشرک).

أَفَأَمِنُوٓا۟ أَن تَأْتِيَهُمْ غَٰشِيَةٌ مِّنْ عَذَابِ ٱللَّهِ أَوْ تَأْتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١٠٧﴾

آيا نو په امن کې دي دا (مشرکان) له دې نه چې راشي دوى ته (عقوبت) چاپېر ېدونکى پټوونکى له عذابه د الله نه يا راشي دوى ته قيامت ناڅاپه حال دا چې دوى پرې خبر نه وي (او څه تيارى نه وي کړى ورته).

تفسير: يعنې دغه مشرکان داسې بې فکره، او بې خوفه ولې کيږي، آيا دوى د الله تعالى له عذابه، يا د قيامت له هولناکو او ويروونکو حوادثو څخه د محفوظ پاتې کېدلو څه انتظام کړى دى؟.

قُلْ هَٰذِهِۦ سَبِيلِىٓ أَدْعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ ۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِى ۖ وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٨﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) چې دغه (ايمان او توحيد) لاره ځما ده چې (تينګ پرې ولاړ يم او) بولم زه ټول خلق طرف د (توحيد) د الله ته په بيان (او ښکاره دليل) سره (هم) زه او (هم هر) څوک چې متابعت پيروي کوي ځما، او پاک دى الله (له شرکه او ولده او نورو عيبونو) او نه يم زه له شريک نيوونکيو (په الله پورې).

تفسير: يعنې ځما لاره هم دغه د خالص توحيد سمه صافه لاره ده، زه ګردې دنيا ته دعوت ورکوم چې ګرد چتې (بېکاره) خيالات او اوهام پرېږدي، او د يوه واحد احد الله تعالى لورې ته راشي ! د ده توحيد د ده د صفاتو او کمالاتو او د احکامو او د نورو صحيح معرفت حاصل، او صحيحه لاره پيدا کړي، زه او ځما ملګرې پر همدغې سمې صافې لارې باندې رهي (روان) يو، او د حجّت او برهان، او بصيرت او وجدان په رڼا درومو، پاک الله ماته داسې يو نور او رڼا راعطا کړې ده، چې په هغې سره ځما او ځما د ګردو ملګرو دماغ منوّر او روښان شوي دي، دلته له سره د ړوندو تقليد او پيروي نشته، د خاص توحيد تلونکي پخپل هر قدم کې پخپل باطن کې د معرفت او بصيرت خاصه رڼا او د عبوديت محضه خاص لذت محسوسوي، او په ډېر اخلاص او صميميت (عزم) سره داسې مخلصانه نارې وهي: ﴿وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ﴾ کله چې کفارو وويل چې الله تعالى څخه خو ډېر ملائکې دي؛ نو هغه يې ولې نه رالېږلې، چې ته او نور سړي يې رالېږلي يئ؟ نو دغه آيت نازل شو:

وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِىٓ إِلَيْهِم مِّنْ أَهْلِ ٱلْقُرَىٰ ۗ أَفَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۗ وَلَدَارُ ٱلْءَاخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٠٩﴾

او نه وو ليږلي مونږ پخوا له تا (په رسالت سره) مګر سړي (بنيادم، نه ملائک، نه جن، نه ښځې) چې وحيې به کوله مونږ دوى ته له اهل د قريو (او ښارونو، نه له صحرايانو او بيابانيو)، آيا نو نه ګرځي (دا کافران) په ځمکه کې چې پس وويني ويني دوى (په نظر د عبرت سره) چې څرنګه وو عاقبت (آخره خاتمه) د هغو (دروغجنانو) چې پخوا تېر شوي دي له دوى نه، او خامخا کور

د آخرت (جنت) ډېر غوره دی لپاره د هغو کسانو چې ځان ساتي (له شرکه او له نافرمانۍ او ویریږي له الله)، آیا نو تاسې عقل نه چلوئ (په بهترۍ یې).

تفسیر: یعنې پخوا له دې نه هم مونږ له اسماني پرښتو څخه کوم نبي نه دی منتخب کړی، او نه لېږلی دی، پخواني انبیاء علیهم السلام هم د همدغه انساني کلیو او د ښارونو له هستېدونکو سړیو څخه وو، نو بیا ووینئ ! چې د هغوی د دروغجن کوونکیو کسانو حشر په دنیا کې څرنګه شو؟.

تنبیه: له دې آیت څخه دغه خبره راوځي چې هیڅ یوه ښځه د نبوّت په درجه نه ده رسېدلې، بي بي مریمې رضي الله عنها ته پاک قرآن د «صدیقې» مرتبه وربښلې ده، او هم له دې آیت څخه ظاهریږي چې له اهل البوادي (صحرائیانو او بدوانو) څخه هیڅ یو نبي نه دی مبعوث شوی، پس ښایي چې مغروره نشي معاندان د زمانې ستا ای محمده ! څکه چې هغو تېرو اقوامو ته به مونږ په هغه طغیان او تکذیب خپل کې مهلت ورکاوه، او رسولانو به تبلیغ کاوه، او نصرت به یې مؤخر کېده.

حَتَّىٰٓ إِذَا ٱسْتَيْـَٔسَ ٱلرُّسُلُ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوا۟ جَآءَهُمْ نَصْرُنَا فَنُجِّىَ مَن نَّشَآءُ ۖ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا عَنِ ٱلْقَوْمِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١١٠﴾

تر هغه پورې چې ناامیده به شول رسولان (له اسلام د کفارو یا د ژر راتللو د عذاب)، او ګمان به وکړ دوی چې ببښکه دوی په تحقیق دروغ ویلی شوي دي دوی ته (له جانبه د نفسونو د دوی، یا له جانبه د قوم د دوی په وعده د ایمان، په همدې وخت کې) ناڅاپه به راغی دوی ته نصرت مدد ځمونږ، نو خلاصی به ورکړه شوه لـه (عذابـه) هغه چا ته چې اراده به وفرمایله مونږ (یعنې رسولان او مؤمنان)، او نشي دفع کېدلی عذاب ځمونږ له قوم ګناهګارانو (کافرانو) څخه.

تفسیر: یعنې د عذاب له تاخیره مه خطاء وځئ ! پخوانیو اقوامو ته هم اوږده مهلتونه ورکړی شوي وو، او د عذاب په راتللو کې به دومره زیات ځنډ پېښېده، چې منکرین بیخي یاغي او بېفکره کېدل، او ډېر زیات شرارت او له حده تېر شرارتونه او بغاوتونه به یې کول، او د دغو حالاتو له لیدلو څخه به انبیاوو علیهم السلام د دوی د ایمان راوړلو څخه بیخي مایوس کېدل، او له بل لوري به الله تعالی هغوی ته دومره زیات فرصت او مهلت ورکاوه، چې تر ډېر زیات اوږده مدّت پورې به هم د عذاب یوه نښه او آثار دوی ته نه څرګندېدل (ښکاره کېدل).

الغرض د دواړو خواوو حالات او آثار به د انبیاوو علیهم السلام لپاره ناامیدي ښوونکي او بې هیلې کېدونکي وو، د دغې منظرې له لیدلو څخه کافرانو به په یقیني ډول سره داسې خیال کاوه، چې له انبیاوو سره هغه وعدې چې د دوی د نصرت او مرستې او ځمونږ او د اهلاک لپاره شوي دي؛ هغه ګردې چټې او دروغ دي، د عذابونو او نورو ګرد چل ول او مکر او فریب تش ځمونږ د وېرولو لپاره وو.

هیڅ لرې به نه وي چې په داسې مایوس کوونکو او اضطراب غورځوونکو حالاتو کې د انبیاوو علیهم السلام په زړونو کې به بې اختیاره داسې وهم ورپیدا شوی وي، چې هغه وعدې چې ځمونږ د نصرت او د منکرینو د هلاکت په نسبت کړی شوې وې، آیا هغه به نه پوره کیږي؟ لکه چې د البقره سورت په (۲۶) رکوع یې فرمایلي دي: ﴿وَزُلْزِلُوا۟ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصْرُ ٱللَّهِ﴾.

کله چې د مجرمینو بې خوفي او د انبیاوو علیهم السلام تشویش تر دې اندازې ورسېد؛ نو په دغه وخت کې یو ناڅاپه اسماني مدد راغی، بیا د هر چا په نسبت چې د الله تعالی اراده وشوه، یعنې فرمان وړونکي مؤمنین یې محفوظ او مأمون وساتل، او د مجرمینو بیخ یې وویست.

تنبيه: د الله تعالى له غير محدود رحمت او مهربانۍ څخه مايوسي کفر دی، ليکن د ظاهري حالاتو او اسبابو په اعتبار مايوسي کفر نه ده، يعنې داسې ويلی شي، چې مثلاً د هغه څيز په نسبت تر هغه ځای پورې چې د ظاهري اسبابو تعلق دی مايوسي شته، ليکن د حق تعالى له کامل رحمت څخه مايوسي نه ده پکار، په ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا ٱسْتَيْـَٔسَ ٱلرُّسُلُ﴾ آيت کې همدغه مايوسي مراد ده، چې د ظاهري حالاتو او آثارو په اعتبار ده، چې د کفارو له ايمان او اصلاح څخه مايوس شوي دي، که نه انبياء عليهم السلام د الله تعالى له رحمت څخه کله مايوس کېدی شي.

تنبيه: د کفر وسوسه چې هاجس او خاطر ورته وايه شي؛ په حق د عامو مسلمانانو کې کفر نه دی، او نه په کومه درجه د ايمان يا د عصمت منافي ده، په حديث کې راغلي دي چې اصحابو کرامو رضي الله تعالى عنهم أجمعين عرض وکړ: «يا رسول الله ! مونږ پخپلو زړونو کې بې اختياره داسې شيان مومو چې د هغو په ژبه راوړلو په مقابل کې مونږ دغه بهتره ګڼو چې وسوځيږو او تک تور سکاره وګرځو» نو رسول الله مبارک وفرمايل: «آيا تاسې داسې شيان پخپلو زړونو کې مومئ؟» دوی عرض وکړ چې :«هو !»، نو يې وفرمايل: «ذلك صريح الإيمان» «دغه ښکاره ايمان دی».

لَقَدْ كَانَ فِى قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ۗ مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَىٰ وَلَٰكِن تَصْدِيقَ ٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١١١﴾

خامخا په تحقيق په قصه د دوی (يوسف يا د نورو انبياوو يا اممو) کې عبرت (پند) دی لپاره د خاوندانو د عقلونو (خالصو)، نه دی (دغه قرآن) يوه داسې خبره چې له ځانه په دروغو ويلی شوی وي، ليکن دی دغه قرآن تصديق کوونکی او (موافق) د هغو کتابونو چې وو پخوا له دې نه، او دی تفصيل د هر شي (چې محتاج اليه وي په دين کې)، او هدايت دی او رحمت دی لپاره د هغه قوم چې ايمان يې راوړی (په الله او په رسول الله).

تفسير: يعنې دغه خو کومه افسانه نه ده، بلکه تاريخي حقائق دي، ښايي چې له هغه څخه عقلاء او پوهان سبق واخلي، او نه دی دغه قرآن يوه داسې خبره چې په دروغو ويلی شوی و ي، وليکن دغه قرآن تصديق کوونکی او موافق دی له هغو کتابونو سره چې وو پخوا له دې نه، او دی تفصيل د هر شي چې محتاج اليه دی په دين کې، او هدايت او رحمت دی لپاره د هغه قوم چې ايمان يې راوړی دی پر الله تعالى او رسول الله.

يعنې پاک قرآن چې په هغه کې قصص بيان شوي دي، کوم له خپل ځانه جوړې کړې خبرې نه دي، د ګردو پخوانيو رښتينو کتابونو تصديق کوونکی دی، او د هر ضروري شي په ښکاره ډول سره بيان کوونکی دی، څرنګه چې ايمانداران له هغه څخه نفع اخلي؛ نو په دغه لحاظ د دوی په حق کې په خاص ډول سره د هدايت او رحمت ذريعه ده.

تمّت سورة يوسف عليه السلام بعون الله تعالى.

سُورَةُ الرَّعْدِ

«د (الرعد) سورت مدني دی، پرته له دوو آیتونو څخه چې (۳۱، او ۳۲) دي، له ﴿وَلَوْ أَنَّ قُرْآنًا﴾ څخه نیولي تر ﴿فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ﴾ پورې ټول آیات یې (۴۳) او رکوع یې (۶) دي، په تلاوت کې (۱۳) په نزول کې (۹۶) سورت دی، او وروسته د محمد (صلى الله عليه وسلم) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

الٓمٓرٰ ۚ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ ۗ وَالَّذِي أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ الْحَقُّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ①

دا آیتونه د کتاب (قرآن) دي، او هغه کتاب چې نازل کړی شوی دی تاته له (طرفه د) رب ستا حق دی، ولیکن زیات خلق نه کوي یقین پرې (چې له جانبه د الله دی).

تفسیر: یعنې هر هغه شی چې په دغه سورت کې لوستل کیږي، هغه ځکه د عظیم الشأن کتاب آیتونه دي، دغه کتاب چې پر تا د الله تعالی له لورې نازل کړی شوی دی، یقیناً حق او صواب دی، لیکن ډېر د تعجب او حیرانی ځای دی؛ چې د داسې صافو او واضحه وو حقائقو له منلو څخه هم اکثر خلق انکار کوي.

اللَّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى ۚ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ يُفَصِّلُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ بِلِقَاءِ رَبِّكُمْ تُوقِنُونَ ②

الله هغه ذات دی چې پورته کړي یې دي اسمانونه (او درولي یې دي) بې له ستنو چې ویې وینئ تاسې، بیا اوچت شوی دی په عرش باندې (په هم هغه شان چې د ده د الوهیت له شان سره وړ «لایق» ده)، او مسخر کړي یې دي لمر او سپوږمی، هر یو (له دوی نه) روان دي تر نېټې معلومې پورې، تدبیر کوي د هر امر (کار د ملکوت او سلطنت خپل)، بیانوي (ظاهروي) په تفصیل سره دلائل (د توحید او قدرت خپل) لپاره د دې چې تاسې په ملاقات د رب خپل یقین وکړئ.

تفسیر: یعنې د دې دنیا عظیم الشان هسک (اوچت) او مضبوط سقف چت پاک الله جوړ کړی دی چې تاسې یې ګورئ، او لطف په دې کې دی چې هیڅ یوه ستنه یا طناب یا پایه او ګاډر یعنې یو د تکیې او استناد شی ځمونږ په نظر نه راځي، چې پر هغه باندې دومره لوی تعمیر او بې سره او بې سامانه چت درولی شوی دی، پرته (علاوه) له دې نه بل څه ویلی شي چې محض د قدرت د غیر مرئي ستنو په قوت درېدلی دی، لکه چې په جزء (۱۷) د حج سورت په (۶۵) آیت (۹) رکوع کې فرمایي: ﴿وَيُمْسِكُ السَّمَاءَ أَنْ تَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِ﴾ که د اجسامو د رابنکوولو (جاذبې) نظریه صحیح وي؛ نو هغه له دې آیت سره څه منافات نه لري، ځکه چې رابنکوولو ته عرفاً عمد نه وایي، او که عمد وویلی شي؛ نو هغه مرئي نه دی، وروي عن ابن عبّاس ومجاهد رضي الله تعالى عنهما والحسن وقتادة وغير واحد رضي الله عنهم: «إنهم قالوا لهما عمد ولكن لا ترى» (ابن كثير)، یعنې دغو مشرانو فرمایلي دي چې: «اسمانونه داسې ستنې لري چې مونږ یې نشو لیدلی، والله أعلم».

د «استواء على العرش» په متعلق په اتم جزء د «الأعراف» په (۵۴) آیت (۷) رکوع کلام شوی دی، هلته دې بیا ولوست شي !.

﴿وَسَخَّرَ الشَّمْسَ﴾ الآیه ـ او مسخّر کړي یې دي لمر او سپوږمی هر یو له دوی نه روان دي تر نېټې معلومې شوې پورې، یعنې لمر خپله دوره په یوه کال کې او سپوږمی یې په یوه میاشت کې پوره کوي.

یا د ﴿لِأَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ معنی تر مقرر وخت پورې واخیسته شي، نو مطلب به یې دا شي چې لمر او سپوږمی داسې روان دي تر قیامت پورې.

وَهُوَ الَّذِي مَدَّ الْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْهَارًا ۖ وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ يُغْشِي
اللَّيْلَ النَّهَارَ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٣﴾ وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجَاوِرَاتٌ وَجَنَّاتٌ مِّنْ أَعْنَابٍ
وَزَرْعٌ وَنَخِيلٌ صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ يُسْقَىٰ بِمَاءٍ وَاحِدٍ ۖ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلَىٰ بَعْضٍ فِي الْأُكُلِ ۚ إِنَّ فِي
ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٤﴾

او دغه (الله) همغه ذات دی چې غوړولې یې ده ځمکه او پیدا یې کړه په دغې ځمکې کې غرونه ثابت (درانه چې د مضبوطو میخونو په شان ولاړ دي) او ویالې (د اوبو)، او هرو قسمو میوو نه یې پیدا کړي دي په دغې ځمکې کې جوړه دوه (لکه سور سپین ـ ژېړ تور ـ خوارې تروه ـ وارې غټ)، پټوي په تیاره د شپې سره ورځ، بېشکه په دې مذکوره وو خبرو کې خامخا دلائل دي (د قدرت) لپاره د (هغه) قوم چې فکر کوي (په مصنوعاتو د الله کې). او په ځمکه کې ټوټې دي (مختلفې) څنګ په څنګ پیوستې یو له بل سره او (نور) باغونه دي (په دې ځمکې کې) له انګورو، او کښتونه (فصلونه) دي، او ونې د خرما دي، چې ځینې له یوه بېخه پورته شوي دي او ځینې ځان ځان ته بېخ لري، چې اوبه کولی شي په اوبو یو قسم سره، او غوره کوو ځینې له هغو څخه په ځینو نورو باندې په خوراک (خوند ـ رنګ ـ او وبړ کې)، بېشکه په دغو (مذکوره وو اشیاوو) کې خامخا دلائل (د قدرت) دي لپاره د (هغه) قوم چې عقل چلوي په کې.

تفسیر: یعنې: او دغه الله همغه ذات دی چې غوړولې یې ده ځمکه او پیدا یې کړه په دغې ځمکې کې غرونه چې تل په همغه یو ځای کې کلک ولاړ دي، او سیندونه چې هر وخت بهیږي او له هرو قسمو میوو نه یې پیدا کړي دي په دغې ځمکې کې جوړه دوه یعنې: لوی وړوکي، خوارې تروه، تور سپین، ګرم یخ، او سم له جدیده وو تحقیقاتو سره په هر یوه کې نر او ښځه هم موندلی کیږي.

د هسکو (اوچتو) اسمانونو په مقابل کې د ټیټې ځمکې بیان هم ذکر کړ، له اسمان سره د لمر او سپوږمی بیان هم وشو، چې د هر یوه تګ سره بېل دی، او د هر یوه کار سره جلا (جدا) دی، د یوې تودې او تېزې اشعې او پلوشې هسې کارونه اجراء کوي؛ چې د هغې بلې د یخې او سپکې روښانې ضیا او وړانګې (پلوشې) څخه هغه په لاس نه راځي، همداسې دلته د ځمکې د مختلفو احوالو او له هغې سره د تعلق لرونکو مختلفو شیانو ذکر وفرمایه، چېرې غر ولاړ دی، چېرې سیند بهیږي، هغه میوې او ثمرات چې پیدا کیږي، په هغو کې هم د شکل ـ صورت ـ رنګ ـ خوند ـ وړوکوالي ـ او لویوالي بلکه په نر او ښځه کې هم اختلاف دی.

کله ځمکه د ورځې له رڼا څخه رڼه کیږي، کله شپې تک تور نقاب پټونی پر خپل مخ اچولی دی، بیا عجیبه نندارې او غریبه منظره خو دا ده چې د ځمکې هغه څو قطعې چې یوه له بل سره نښتي دي، یا څنګ په څنګ سره پرتې دي، او ځینې یې متې او ځینې یې شګلوړې ـ او ځینې یې خورا (ډېرې) نا پاکې او ځینې یې پاکې ـ او ځینې یې د کرلو وړ

(لايق) او ځينې يې د نيالګيو (بوزغلی) د کښلولو لايقې ـ او ځينې يې خوږې او ځينې يې تروې دي، دغه ټول په يو اوبو سره سېراب (پن) کيږي، او د يوه لمر پلوشې اشعه ګردو ته وررسيږي، او يوه هوا د ځمکې پر مخ چليږي، او سره له دې دومره قدر مختلفې مېوې او ګلان تروې پيدا کيږي، او يو يو له بل سره د حاصلاتو په تزييد او تنقيص کې دومره فرق او توپير (تفاوت) لري، چې ليدونکي ورته هک پک حيران پاتې کيږي.

غور او فکر کوونکي د قدرت د دغو دلائلو او نښو له ليدلو څخه پوهيږي چې له همغې يوې د رحمت له ورېځې څخه اوبه څښونکي دي، يا له همغه يوه د هدايت د لمر د اشعه او پلوشې څخه رڼيږي، نو له همدغې رحماني وريا (باران) او فيضاني رڼا له هدايت او لارښوونې څخه د انسانانو د مادي او روحاني احوالاتو اختلاف او توپير (فرق) هم دومره مستبعد او مستنکر نه دی.

وَإِنْ تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ أَإِذَا كُنَّا تُرَابًا أَإِنَّا لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ۗ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٥﴾

او که تعجّب لرې (ای محمده ! له دې نه چې دوی تا نه مني؛) نو لا عجيبه ده (دا) خبره د دوی چې (وايي:) آيا کله چې شو مونږ خاورې آيا شو به مونږ خامخا په پيدايښت نوي کې؟ ! دوی همغه کسان دي چې کافران شوي دي په رب خپل، او همدغه ګمراهان دي چې د اور طوقونه به وي (په قيامت کې) په غاړو د دوی کې، او دغه (خاوندان د طوقونو) صاحبان (ملګري) د اور دي، دوی به په دې اور کې همېشه وي.

تفسير: ګواکې دغه خلق له «بعث بعد الموت» څخه انکار کوي، او د پاک الله له مالک الملکوتی او شهنشاهی څخه منکريږي، نو د داسې ياغيانو انجام لازم دی چې همداسې وشي؛ چې د دوی په غاړو کې د اور طوق او غاړکی او په لاسونو او پښو کې يې الچکی او بيړی واچولی شي، او په هغې ابدي بنديخانې کې وغورځول شي، چې په حقيقت کې د همداسې مجرمانو لپاره جوړه کړی شوې ده.

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ وَقَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِمُ الْمَثُلَاتُ ۗ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلْمِهِمْ ۖ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٦﴾

او ژر غواړي دوی له تا نه بدي (عذاب) پخوا له نېکۍ (رحمت) څخه حال دا چې په تحقيق تېر شوي دي پخوا له دوی نه عذابونه (مثالونه د امثالو د دوی چې موجب د عبرت دي)، او بېشکه رب ستا خامخا څښتن (مالک) د مغفرت دی خلقو ته سره له ظلمه (کفره) د دوی (که ايمان راوړي) او بېشکه رب ستا خامخا سخت دی عذاب د ده (کفّارو ته).

تفسير: يعنې دوی حق نه قبلوي چې په هغه کې د دنيا او آخرت ښېګڼې (فائدې) ور په برخه شي، او کفر اختياروي او ژر غواړي له تا نه زحمت پخوا له راحت نه، او وايي چې: هغه موعود عذاب دې راوله، او حال دا دی چې په تحقيق سره تېر شوي دي پخوا له دوی نه عذابونه په پخوانيو دروغجن کوونکو باندې، يعنې پخوا له دې نه پر اقوامو عذاب نازل شوی دی، لکه: غرق ـ نسف ـ زلزله ـ صيحه ـ مسخ او نور نو پر تاسې د عذاب نزول آيا مشکل وو؟ ، خبره دومره ده چې ستا پاک الله د خپل حلم او د عفوې له شانه په هر لوی او وړوکي جرم سمدستي نيول نه کوي، دی د خلقو ظلم او تېری ګوري او پرله پسې تري تيريږي، تر هغه پورې چې د مظالمو او شرارتونو سلسله له خپله حده تيريږي؛ نو په دغه وخت د ده له تباه او سپېره کوونکي عذاب څخه د نجات هيڅ يو صورت نه پاتې کيږي.

وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ ۗ إِنَّمَا أَنتَ مُنذِرٌ وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ﴿٧﴾

او وايي هغه کسان چې کافران شوي دي: ولې نه نازلولی شي په دغه محمد باندې کومه معجزه (په صداقت د ده) له (طرفه د) رب د ده (هغه چې مونږ يې غواړو)، (نو وفرمايل الله په رد د دوی کې): بېشکه همدا خبره ده چې ته وېرووونکی يې او لپاره د هر قوم لار ښوونکی (خاوند د خاصې معجزې مقرر) دی.

تفسير: يعنې هغه دلائل د قدرت او نښې چې مونږ يې غواړو؛ ولې نه نازليږي؟ چې د هغې له ليدلو څخه مونږ په ايمان راوړلو مجبور کيږو؟ نو وفرمايل رب العزّت جل جلاله په ترديد د دوی کې چې بېشکه همدا خبره ده چې ته ای محمده ويروونکی يې يعنې د آيتونو نزول ستاسې په واک او قبضه کې نه دی، هغه خو د پاک الله کار دی، هر هغه آيت معجزه او دليل چې د رسول د تصديق لپاره د هرې زمانې په اقتضاء سره مناسب وي؛ همغه ورښکاره کوي، نه دا چې هر څه چې منکرين غواړي؛ همغسې به يې ور کوي، ستاسې په غاړه هم دغومره کار دی چې د خير غوښتلو خبرې هغوی ته واوروئ ! او د بدی له مهلک انجام څخه خلق باخبره کړئ !.

اللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ۖ وَكُلُّ شَيْءٍ عِندَهُ بِمِقْدَارٍ ﴿٨﴾

الله عالم دی (لا پخوا له تولده) په هغه څه چې بار اخلي هره ښځه او (الله عالم دی) په هغه څه چې کموي يې ارحام (او ناقص يې ځېروي) او (الله عالم دی) په هغه څه چې زياتوي يې (من حيث الأعضاء والجثة والعدد والمدة) او هر شی په نزد د دغه (الله) په اندازه دی.

تفسير: چې نارينه دی که ښځه؟ پوره دی که نيمګړی؟ ښه دی که خراب؟ وغير ذلك من الأحوال، دغه ګرد پاک الله ته لا پخوا له تولده ښکاره دي، او ښه ور معلوم دي چې هر هغه چې بار اخلي هره ښځه او هر چې کموي يې ارحام د الله تعالى په اراده يا يې زياتوي (من حيث الأعضاء والجثة والعدد والمدة)، يعنې د حاملې په ګېده کې يو مولود دی؟ که ډېر؟ کامل مخلوق شوی دی؟ که ناتمامه دی؟ په لږ مدّت کې به پيدا کيږي يا په ډېر؟ الغرض د ارحامو د تزييد او تنقيص د ګردو اسرارو ـ اسبابو ـ اوقاتو او احوالو څخه پوره باخبر دی، او سم له خپل محيط علم سره هر څيز په هر حالت او هره زمانه د هغه له اندازې او استعداد سره موافق ساتي.

عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيرُ الْمُتَعَالِ ﴿٩﴾

(الله) عالم دی په پټو او ښکاره وو چې (ګردو څخه) لوی دی، او لوړ برتر دی په هر شي باندې.

تفسير: دغه د الله تعالى د علم د لامحدوده وسعت او احاطې بيان دی يعنې د ټولې دنيا هيڅ يو پټ او ښکاره شی له هغه څخه پټ نه دی، او ګرد عالم د ده تر حکم او تصرّف لاندې دی، او په ټول عالم باندې اوچت دی.

سَوَاءٌ مِّنكُم مَّنْ أَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَن جَهَرَ بِهِ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ بِاللَّيْلِ وَسَارِبٌ بِالنَّهَارِ ﴿١٠﴾

يو شان دي له تاسو نه (علم د الله ته) هر هغه څوک چې پټوي خبره (په زړه کې) او هر هغه څوک چې ښکاره کوي دا خبره، او هر هغه څوک چې هغه پټېدونکی دی په شپه کې، او هر هغه څوک چې ظاهروونکی (د عمل خپل) په ورځ کې.

تفسير: د الله تعالى د علم عموم يې بيان کړ، او د مقام په مناسبت د مکلفينو د خاصو احوالو په نسبت دا رابنيي چې ستاسې پر هر قول او فعل ځمونږ علم محيط دی، هر هغه خبره چې تاسې يې پخپلو زړونو کې پټه کړئ، يا يې په ورو

سره ووايئ، يا په علانيه او په چغه سره ناري کړئ، يا کوم کار د شپې په تياره کې په پټه سره وکړئ، يا دا چې په ورځ په ډانګ پيلې (ښکاره) سره د کوڅو او بازارونو په سر يې ووايئ؛ په ګردو احوالو او ټولو حيثيتونو الله تعالى خبردار او د ده د علم په اعتبار سره يو برابر او يو شان دي.

لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٌ مِّنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ يَحْفَظُونَهُۥ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا۟ مَا بِأَنفُسِهِمْ ۗ وَإِذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِقَوْمٍ سُوٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُۥ ۚ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَالٍ ﴿١١﴾

انسان لره (له جانبه د الله ملائکې دي) نوبت په نوبت راتلونکې دي يوله له بلې پسې د مخې له طرفه د دغه (انسان) او د شا له طرفه د دغه (انسان)؛ چې ساتنه کوي د ده په امر حکم د الله سره، بېشکه الله نه بدلوي حالت د هيڅ قوم (چې عافيت او نعمت دی) تر هغه پورې چې بدل کړي دوی هغه ښه حالت چې په نفسونو ځانونو د دوی کې وي (په بد حالت سره چې معصيت دی)، او کله چې اراده وکړي الله پر کوم قوم باندې د بدۍ (آفت)؛ نو نشته بېرته ګرځېدل د هغه، او نشته دوی ته بې له الله څخه هيڅوک متولي (مددګار).

تفسير: يعنې له هر بنده سره د الله تعالى پرښتې ماموريې وي، چې له هغوی څخه ځينې د ده ګرد پخواني او وروستني اعمال ليکي، او ځينې د الله تعالى له حکم سره سم ذريعه ګرځي، چې له هغوی څخه هغه بلاوې دفع کړي چې د هغو د دفع اراده الله تعالى له بندګانو څخه ولري، همغسې چې په دغه عالم کې د الله تعالى عام عادت دی.

بېشکه چې الله تغيير نه ورکوي هغه نعمت او عافيت ته چې کومې طائفې سره وي، تر هغه پورې چې تغيير ورکړي دوی هغه حالت د طاعت ته چې په نفسونو د دوی پورې وي په بد حالت سره چې معصيت دی، يعنې الله تعالى پخپلې هغې ساتنې او مهربانۍ سره چې تل د ده له لوري کېږي هيڅ يوم قوم محروم او بې برخې نه ګرځوي، تر هغه وخته پورې چې دوی خپل ښه ټک ـ طاعت او عبادت ـ جميله عادت او حسنه رويه نه وي بدله کړي، او کله چې دوی خپل هغه حالت په بد وضعيت ـ قبيحه اخلاقو او معصيت سره بدل کړي؛ نو داسې آفت پر دوی نازليږي؛ چې له سره بېرته ګرځېدونکی نه وي، او نه د هيڅا مدد هلته په کار ورتلی شي.

هُوَ ٱلَّذِى يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنشِئُ ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ ﴿١٢﴾

دغه (الله) همغه ذات دی چې درښيي تاسې ته برق برېښنا (چې ننبه د باران ده لپاره د خوف او ويرولو د هغه چا چې ضرر ورسوي) يا لپاره د طمع (او اميد د هغه چا چې فائده ورورسوي، او پيدا کوي) راپورته کوي ورېځې درنې (په اوبو په هوا کې).

تفسير: پخوا د بندګانو د حفاظت ذکر وو، بيا د بدو اعمالو له طرفه کوم آفت او مصيبت چې نازل کېدونکی دی؛ د هغه ذکر وشو، او دغه په ښه شان سره رامعلومه شوه چې د الله تعالى شان د انعام او د انتقام د دواړو جامع دی، په همدې مناسبت دلته د قدرت د ځينو داسې نښو په لوري توجه ورکړی شوې ده، چې په هغو کې په يو آن کې توأماً هيله او وېره، خوف او رجاء د دواړو متضادو کيفيتونو د پيدا کولو صلاحيت شته، يعنې کله چې برېښنا بريښي؛ نو خلق هيلمن کېږي، چې اوس به باران اوريږي، او پرله پسې وېره هم ورته پيدا شي، چې د هغه په اثر چېرې تندر او ټکه (چرق) ونه لويږي، او د هلاکت سبب ونه ګرځي، کله چې درنه ورېځ له اوبو څخه ډکه راشي؛ نو خلق پرې خوشاليږي چې هغه د باران د رحمت د نزول سبب وګرځي، او متصلاً ورته دغه فکر او چرت (خيال) هم ور لويږي؛ چې چېرې د اوبو طوفان ځپان رانشي، او د ربړ (زحمت) او تکليف موجب نشي، عيناً همداسې انسانانو لره ښايي چې د پاک الله رحمت ته هم اميدوار شي، خو ورسره د الله تعالى له مکره هم مأمون او بې فکره نه شي.

وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ ۚ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيْبُ بِهَا مَنْ يَّشَآءُ وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِي اللّٰهِ ۚ وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ ﴿۱۳﴾

او تسبيح وايي رعد (پرښته) سره له ثناء د دغه (الله) او تسبيح وايي نورې ځکردې پرښتې له وېرې (او له هيبته د الله) نه، او ليږي (الله) تندرونه؛ نو رسوي (غورځوي دغه تندرونه) پر هغه چا چې اراده وفرمايي حال دا چې دغه خلق جګړې کوي په شان د الله کې، حال دا چې الله سخت دی عقوبت د ده (په جګړه کوونکو باندې يا سخت دي نيول د ده).

تفسير: يعنې غوريدونکې ورېځ يا پرښته د حال يا د قال په ژبه سره د الله تعالى تسبيح او تحميد وايي، لکه چې په (۱۵) جزء د بني اسرائيل سورت په (۴۴) آيت په (۵) رکوع کې مونږ داسې يو آيت لولو: ﴿وَإِنْ مِّنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ﴾ او ځکردې پرښتې له هيبته او خوفه د ده په حمد او ثناء او تسبيح او تحميد کې مشغولې او لګيا دي.

له احاديثو څخه دغه خبره څرګندېږي چې د نورو طبيعيه وو نوامیسو په شان د ورېځو او وريا (باران) د انتظاماتو لپاره هم د پرښتو ډلې مقررې دي، چې دوی ورېځې په مناسبو مواقعو رسوي، او له دوی نه حسب الضرورت والمصلحت د کار اخيستلو په تدابيرو لګيا دي.

﴿وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ﴾ الآيه - «پر دغو جګړه کوونکو د عذاب تندرونه غورځوي»، په حديث کې دي چې پاک رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه عرب متکبر رئيس ته يو سړی ولېږه؛ چې هغه ماته راوله، قاصد د رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه پيغام هغه ته ورسولو، او ورته يې وويل چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم تا بولي، هغه وويل چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم څوک دی؟ او الله څه څيز دی؟ د سرو زرو دی؟ که د سپينو؟ که د مسو؟ (العياذ بالله)، درې ځلې همغه خبره يې وکړله، درېيم ځلې کله چې هغه دغه چتې (بېکاره) خبرې وکړې؛ نو يو ناڅاپه يوه ورېځ پورته شوه، او على الفور تندر (ټکه) پرې ولوېده، او د هغه کوپړۍ يې له بدن څخه جلا (جدا) کړه.

په ځينو رواياتو کې راغلي دي چې عامر بن طفيل او اربد بن ربيعه د رسول الله مبارک په خدمت کې حاضر شول، او ويې ويل چې: مونږ په دغه شرط سره اسلام راوړو؛ چې وروسته له تاسې اسلامي خلافت مونږ ته ورسيږي، رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوی له دغې غوښتنې ځنې انکار وفرمايه، دوی دا خبره وکړه او له مجلسه پاڅېدل، او ويې ويل چې: مونږ به د مدينې وادي ستاسې د مقابلې لپاره له سپرو او پلیو (سورو او پياده وو) څخه ډکه کړو، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې: پاک الله به د هغوی مخه ونيسي، او د مدينې انصار به د هغوی د مقابلې لپاره ووځي، دوی دواړه لاړل، په لار کې پر «اربد» باندې تندر او ټکه ولوېده، او «عامر» پمن شو، او په طاعوني خارښت (ګرځک) سره په هلاکت ورسېد.

فائده: د رعد د غږ اورېدلو په وخت کې ښايي چې داسې وويل شي: «سبحان الذي يسبّح الرعد بحمده والملائكة من خيفته اللهم لا تقتلنا بغضبك ولا تهلكنا بعذابك وعافنا قبل ذلك».

لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ ۭ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ بِشَيْءٍ اِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ اِلَى الْمَاۗءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهٖ ۭ وَمَا دُعَاۗءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۱۴﴾

خاص همدغه (الله) ته دی دعوت (او بلنه) د حق، او هغه کسان چې بلي يا (عبادت کوي کفار د هغوی) بې له دغه (الله)؛ نه قبلوي دوی (ځواب نه ورکوي دغه اشياء) دغو بلونکو ته په هيڅ شي

سره مګر داسې قبلول لکه قبلول د غځوونکي د داوړو ارغويو خپلو طرف د اوبو ته (د کوهي بې رسۍ او بې بوکې) لپاره د دې چې ورسيږي دغه اوبه خولې د ده ته حال دا چې نه دي دغه اوبه رسيدونکي خولې د ده ته، او نه ده دعا (بلنه) د کافرانو (خپلو معبودانو لره) مګر په زيان او بطلان کې ده.

تفسير: يعنې د هغه ذات بلل پکار دي چې د هر قسم نفع او ضرر مالک دی، د عاجزانو د بلنې ځخه څه فائده په لاس درځي؟ ما سوا له الله جل جلاله ځخه بل څوک دی چې د هغه په قبضه کې ځما يا د بل چا څه نفع او ضرر وي؟ د غير الله بلل خپل مدد لپاره داسې دي لکه چې کوم تږی د کوهي او څاه پر سر کې ودريږي، او خپل لاسونه اوږده کړي، او د اوبو په لوري خپل دواړه ارغوي وغوړوي، او خوشامد وکړي چې هله ژر راشه ! بلکه که اوبه د ده په لپه کې هم وي؛ نو هغه پخپله د ده خولې ته نه شي ورتلی.

شاه صاحب (رحمه الله تعالی) ليکي: «هغه کسان چې کفار يې بولي او عبادت يې کوي، ځينې خو محض خيالات او اوهام دي، او ځينې پيريان شيطانان دي، او ځينې داسې شيان دي چې په هغو کې ځينې خواص دي، ليکن د خپلو خواصو مالکان نه دي، نو بيا د هغوی د بلنې ځخه څه حاصل؟» لکه اور يا اوبه او ښايي چې ستوري به هم په همدغه قسم کې داخل وي.

وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّظِلٰلُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْأٰصَالِ ﴿١٥﴾

او خاص الله ته سجده کوي هر هغه څوک چې په اسمانونو کې دي او په ځمکه کې دي (تعبداً وانقياداً سره له اسمانونو او ځمکو، ځينې) په خوښه او (ځينې) په زور، او (سجده کوي) سوري د دغو (مخلوقاتو) په سبا او بېګا کې (يعنې همېشه).

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله تعالی) ليکي: «هغه څوک چې پر الله تعالی باندې يقين کوي؛ نو په خوښی سره ورته سر ږدي او حکم يې منې، او هغه څوک چې پرې يقين نه لري؛ نو پر هغه باندې بې اختياره د هغه حکم جاري دی، او سوری چې سبا او بېګا پر ځمکه باندې غوړيږي همدا دي د هغوی سجدې»، مطلب يې داسې شو چې که جواهر وي يا اعراض، هيڅ يو شی د الله تعالی د تکويني حکم ځخه نشي خارج کېدی، د ده د نفوذ او اقتدار په مخ کې ګرد سره مطيع او منقاد او سر په سجده دي.

قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ؕ قُلِ اللّٰهُ ؕ قُلْ أَفَاتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖٓ أَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُوْنَ لِأَنْفُسِهِمْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا ؕ

ووايه (ای محمده ! دوی ته) څوک دی رب (پالونکی پيدا کوونکی) د اسمانونو او د ځمکې، ووايه (ای محمده ! په ځواب کې) چې الله دی ! ووايه (ای محمده ! دوی ته کله چې تاسې پره او ملزَم شوئ)؛ نو آيا پس نيولي دي تاسې بې له دغه (الله) ځخه دوستان چې نه دي مالک (نه لري اختيار دوی) لپاره د نفسونو (ځانونو) خپلو د څه نفع (رسولو) او نه د څه ضرر (د دفع کولو)،

تفسير: يعنې کله چې د ربوبيت اقرار يوائې د پاک الله لپاره کوئ؛ نو بيا د مدد لپاره د نورو دوستانو او مربيانو تجويز د څه لپاره کوئ؟ حال دا چې هغوی د يوې ذرې په اندازه هم د نفعې او د ضرر اختيار او واک نه لري.

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ ۙ أَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمَاتُ وَالنُّورُ ۚ

ووايه (اى محمده ! دوى ته) آيا برابر دى ړوند (چې كافر دى) او ليدونكى (چې مؤمن دى)؟ بلكه آيا برابرې دي تيارې (چې شرك او انكار دي) او نور (رڼا چې توحيد او معرفت دى؟ بلكه نه دي سره برابر).

تفسير: يعنې د موحّد او د مشرك په منځ كې داسې يو فرق او توپير (تفاوت) شته لكه د ليدونكي او ړانده، او د توحيد دوستان داسې وګڼئ لكه نور (رڼا) او ظلمت (تياره)، نو آيا يو ړوند مشرك چې د شرك په ظلماتو كې پروت وي، او هر لوري ته لاس او پښې اچوي هغه مقام ته رسېدى شي، چې هلته هغه موحد رسيږي چې د فهم او بصيرت او د ايمان او عرفان په رڼا كې د انساني فطرت په سمه صافه لاره روان وي، له سره دغه دواړه پر يوه نتيجه نه شي رسېدى.

أَمْ جَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ خَلَقُوا كَخَلْقِهِ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ۚ قُلِ اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿١٦﴾

آيا ګرځولي دي دوى الله لره شريكان چې پيدا كول يې كړي دي په شان د پيدا كولو د دغه (الله) نو بيا مشتبه شوه (پيدا كول د دې شريكانو سره د) پيدايښت (د الله سره) پر دوى باندې؟، ووايه (اى محمده ! دوى ته) خاص الله پيدا كوونكى د هر څيز دى، او همدى دى يو قوي غالب (پر هر څيز او هر چا).

تفسير: يعنې لكه چې الله تعالى ګرد مخلوقات پيدا كړي دي؛ نو ستاسې دغه بُتانو او باطلو معبودانو داسې كوم شى پيدا كړى دى؟ چې د هغه په ليدلو سره د دوى پر الوهيت ستاسې څه شبهه پيدا شوي وي؟ دوى خو د مچ يو وزر او د مياشي يوه پښه هم نه شي پيدا كولى او جوړولى، بلكه دوى پخپله هم د ګردو نورو مخلوقاتو په شان د هغه الله واحد ـ أحد ـ صمد مخلوق دي، نو بيا داسې عاجز او مجبور شيان د الوهيت په تخت كښېنول څومره ګستاخي او سپين سترګي او بې عقلي او حماقت دى؟ !.

أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌ بِقَدَرِهَا فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا ۚ وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ ابْتِغَاءَ حِلْيَةٍ أَوْ مَتَاعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهُ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ ۚ فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَاءً ۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ ﴿١٧﴾

نازلې كړي دي (الله) له اسمانه اوبه، نو وبهېدل خوړونه په اندازه (د ډكېدو) د دوى سره، نو په سر واخيست دې سيلاب څڅك (او خيرى) اوچت شوى (په سر د اوبو)، او له هغو څيزونو چې بلوي پرې (دا خلق لمبې او ويلي كوي) په اور كې لپاره د طلب د ګانې يا نور اسباب څڅك (خيري دى) په شان د هغه (څڅك)، په مثل د دې (مذكورو مثالونو) بيانوي الله (مثالونه د) حق او باطل، نو هر څه چې څڅك او خيرى (دى)؛ نو لاړ به شي په دغه حال كې چې پرېوتى وي له نظره (او بې نفعې به وي)، او هر څه هغه څيز چې نفع رسوي خلقو ته (لكه اوبه او ويلي شوي فلزات)؛ نو پاتې كيږي په ځمكه كې (للانتفاع)، همداسې بيانوي الله مثالونه (د حق او د باطل لپاره د متفكرينو).

تفسير: د اسمان له لوري باران نازليږي، چې له هغه څخه نهرونه، ويالې، خوړونه، سيندونه، دريابونه بهيږي، په هر نهر او خوړ كې سم د هغه له ظرفيته او ګنجايشه هومره چې د پاك الله اراده وي، اوبه بهوي په وړوكي كې لږ ـ او په لوى كې

ډېر، کله چې اوبه بهيږي؛ نو د خاورې ـ خس خاشاک او د نورو له کاره وتليو له امتزاجه او ګډون څخه خړ او مکدر او خيرن کيږي، بيا دغه خړه او خيرې او څګ يې پرسيږي، او د اوبو په سر راپورته کيږي، لکه چې پر سخت تود اور کې سور او سپين ـ زر ـ مس ـ قلعي ـ اوسپنه ـ فلزات او نور معدنيات ويلي کوي، چې ګاڼې (کالی) ـ لوښی ـ وسلې ـ تورې ـ چړې چوړ کی ـ چاکوګان ـ بياتيګانې (قينچی) ـ تبی ـ نغری ـ هرکارې ـ توپ ـ ټوپک ـ ټينکونه ـ طيارې ـ جهازونه ـ موټر ـ ريل ـ يوم ـ تبر ـ او نور د معاش لوازم ـ اسباب او شيان ترې جوړ کړي؛ نو په هغه کې هم داسې لوخړه او ځک پورته کيږي، مګر لږ څه وروسته هغه وچيږي يا خوريږي، او هغه ځګ او خيری يې ترې لرې او ورک شي، او هغه چې اصلي او کارامد شی دی يعنې اوبه يا ويلي شوي معدني فلزات خالص اوبه به په ځمکه يا د ځمکې د خاوندانو په لاس کې باقي پاتې کيږي، چې له هغه څخه په مختلف ډول سره خلق منتفع کيږي.

همدغه مثال دی د حقو او د باطلو؛ کله چې اسماني وحيې سره حق دين نازليږي؛ نو د بنيادمانو زړونه هر يو د خپل ظرفيت او استعداد سره سم له هغه څخه فيض حاصلوي، بيا نو حق او باطل يو له بل سره ښلي، نو دوړې او خيري پورته کيږي، او په ظاهر کې باطل د هم هغه خيري او ځګ په شان حق باندې راخيژي، ليکن د هغه دا جزوي جوش او پرسېدل سطحي او عارضي او بې بنياده شی دی، او لږ څه مدت وروسته د دې دغه جوش او خروش هيڅ يوه نښه او اثر نه پاتې کيږي، او الله خبر دی چې چېرې ځي؟ او هغه اصلي او د کار شی چې د هغو ځګونو لاندې پټ وو، يعنې حق او صداقت پس همغه پاتې وي.

وګورئ چې د پاک الله بيان کړي مثالونه څرنګه عجيب وي؟ او په څومره يوې مؤثرې طريقې سره مو پوهوي چې کله په دنيا کې حق او باطل، کذب او صدق سره وښلي، يعنې د دغو دواړو په منځ کې جنګي مقابله کيږي؛ نو اګر که د څو مودې له مخې باطل پاس او پرسېدلی په نظر راځي، ليکن بالآخر باطل سره تيت او پرک (منتشر) او همغه حق ظاهر، غالب او بريالی (کامياب) په نظر راځي.

نو هيڅ يو مؤمن ته نه ښايي چې د باطلو پر عارضي بري او نندارې وغوليږي، همداسې څه وخت چې د کوم انسان په زړه کې حق ځای ونيسي؛ نو نه ښايي چې سړی ترې ويريږي، ځکه چې لږ څه مدت وروسته له دغه ځګ او پرسېدل پخپله ورک کيږي، او خالص حق او صداقت ثابت قائم او مستقر پاتې کيږي.

په پخوانيو آيتونو کې کله چې د توحيد او شرک سره مقابله کړی شوې وه، په دغه مثال کې د حق او باطل د مقابلې کيفيت راوښوولو، او د دواړو انجام بيخي په واضح ډول سره اوس بيان فرمايي:

لِلَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنَىٰ ۚ وَالَّذِينَ لَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُ لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ لَافْتَدَوْا بِهِ ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ سُوءُ الْحِسَابِ ۙ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿١٨﴾

شته لپاره د هغو کسانو چې حکم قبول کړی دی دوی د رب خپل (جزا) نېکه (چې جنت دی)، او هغه کسان چې نه وي قبول کړی دوی حکم د دغه (الله) که چېرې وي دوی ته هر هغه څه چې دي په ځمکه کې ټول، او نور هم وي په مثل د دې له دې سره (او په تصرف د دوی کې وي په قيامت کې)؛ نو خامخا به فديه ورکړي دوی په هغو (ټولو سره؛ نو نه به خلاصيږي له عذابه)، دغه کسان مقرر دی دوی لره بد (سخت) حساب (چې نه به يې نيکي قبوله او نه به يې بدي محو کيږي) او ځای د هستوګنې د دوی دوزخ دی، او بد ځای د آرام دی (دغه دوزخ).

تفسير: يعنې دلته خو خير دی په هر قسم چې وي تېريږي، ليکن په آخرت کې د دوی حالت به داسې پرېشانوونکی او ويروونکی وي، که د ګردې دنيا خزائن له نقده، له جنسه، له شرقه تر غربه، له شماله تر جنوبه، او په مثل د دې مذکورو

نور هم وي، له ده سره او دا ټول بيا په تصرف د كفارو كې شي په ورځ د قيامت، او غوښتنه او تمنا وكړي چې مونږ دغه ګرد د خپل ځان په فديه كې وركوو چې د هغه په بدل كې له عذابه خلاص شو، او له دغې پرېشانۍ څخه نجات ومومو؛ نو له سره به يې دغه هيله (اميد) او ارمان په سر ونه رسيږي: «أنى لهم ذلك».

أَفَمَن يَعْلَمُ أَنَّمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ٱلْحَقُّ كَمَنْ هُوَ أَعْمَىٰ ۚ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا۟ ٱلْأَلْبَابِ ﴿١٩﴾

آيا نو هغه څوك چې پوهيږي په دې خبره چې بېشكه هغه (قرآن) چې نازل كړى شوى دى تاته له طرفه د رب ستا حق دى (رشتيا) په مثل د هغه چا دى چې دى ړوند وي (د زړه په سترګو ! يعنې نه دى د هغه په شان !) بېشكه خبره همدا ده چې پند اخلي (په دې قرآن) خاوندان د عقلونو خالصو.

تفسير: د مؤمن او د كافر د دواړو انجام بېل بېل د ذكر فرمايلو څخه وروسته تنبيه وركوي چې داسې انجام د عين عقل او حكمت سره موافق دى، هيڅ يو عقلمن داسې نشي ويلى چې يو پوخ ړوند چې هيڅ څيز يې په نظر نه راځي، هم داسې خوشې چټي (بېكاره) په تياره كې لويږي او جيګيږي (وچتيږي)، او بودرې (ټكرې) خوري؛ له هغه سړي سره برابري كولى شي چې د هغه د زړه سترګې هم روڼې وي، او په پوره بصارت او كامل بصيرت سره د حق له رڼا څخه مستفيد كيږي.

ٱلَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهْدِ ٱللَّهِ وَلَا يَنقُضُونَ ٱلْمِيثَاقَ ﴿٢٠﴾ وَٱلَّذِينَ يَصِلُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُونَ سُوٓءَ ٱلْحِسَابِ ﴿٢١﴾

هغه كسان چې وفا كوي په عهد د الله باندې (چې په ورځې د ميثاق يې ورسره كړى دى) او نه ماتوي دوى (هغه) ټينګ عهد. او هغه كسان چې وصل كوي هغه (شى) چې امر (حكم) كړى دى الله په هغه سره داسې چې وصل دې كړى شي (چې د خپلوۍ پالنه له خپلوانو سره ده) او ويريږي دوى له عذابه د رب خپل او خوف كوي له بده حسابه (د قيامت).

تفسير: يعنې له الله تعالى سره هغه عهد چې په ازل كې شوى دى (يعنې د الست بربكم عهد) او پر هغه باندې پخپله د انسان فطرت شاهد دى، او هغه عهد چې د انبياوو عليهم السلام له ژبې اخيستى شوى دى، هغه ګرد دوى پوره كوي، او د هغه څخه هيڅ يو نه ماتوي، او هم بالذات پخپله په هيڅ يوه معامله كې چې له الله تعالى سره يا د ده له بندګانو سره يې تړي، مشروط په دې چې معصيت نه وي؛ له عهده مخالفت نه كوي، او هغه كسان چې وصل كوي هغه شى چې امر او حكم كړى دى الله په هغه سره داسې چې وصل دې كړى شي يعنې صلة الرحم كوي، يا خپل ايمان له عمل سره يا حقوق العباد له حقوق الله سره يو ځاى كوي، يا اسلامي اخوت ټينګ او قائم ساتي، يا د انبياوو عليهم السلام په منځ كې له سره تفريق نه كوي: چې يو مني په نبوت سره او بل ونه مني، او ويريږي له عذابه د رب خپل او خوف كوي له بده حسابه د قيامت، يعنې د الله تعالى د عظمت او جلال له تصوره ډاريږي.

وَٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُوا۟ مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُونَ بِٱلْحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴿٢٢﴾ جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنْ ءَابَآئِهِمْ وَأَزْوَٰجِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ ﴿٢٣﴾ سَلَٰمٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴿٢٤﴾

او هغه كسان چې صبر كوي لپاره د طلب د مخ د رب خپل (په مالي او جاني مصائبو يا د شرعې يا د جهاد په تكاليفو) او قائموي (سم اداء كوي) لمونځ، او نفقه كوي (لګوي په لاره د الله كې) ځينې له هغه (حلالو اموالو) نه چې وركړي دي مونږ دوى ته: هم په پټه او هم په ښكاره، او دفع

کـوي دوی په نېکی سره بدي؛ دغه موصوف په دغو صفاتو شته دوی تـه (ښه) عاقبت د دار (د آخرت. چې) جنتونه دي د تل اوسېدلو، چې ننوځي به دوی په هغو کې، او هغه څوک چې صالح (مؤمن) وي له پلرونو د دوی او له ښځو د دوی او له اولادې د دوی (اګر که عمل يې د هغو په درجه نه وي) او پرښتې به ورننوځي له هرې دروازې (مانيو د دوی. او وايې به ورته چې) سلامتيـا دې وي پر تاسې په سبب د صبر کولو ستاسو (په طاعت او مصيبت او له معصيت)، نو ښه عاقبت د دار (د آخرت عاقبت ستاسې دی).

تفسير: يعنې پر مصائبو او شدائدو او د دنيا پر مکروهاتو يې صبر وکړ، له کومې سختۍ له وېرې د طاعت له لياړې څخه يې خپل پل غلط کښېښود، او د معصيت په لوري يې ميلان ونه کړ، او دغه صبر او استقلال يې محض د الله تعالى سره د ملاقات او د ليدلو په خاطر او د رضاء او خوښۍ د حاصلولو لپاره وکړ، او د دې لامله يې ونه کړ چې په دنيا کې خلق ورته ډېر صابر او مستقل مزاج ووايي، او نه د دې لپاره يې وکړ چې غير له صبر څخه بله څه چاره نه وه ورپاتې؛ نو مجبورا يې صبر وکړ، او د صابرانو په شان کښېناست.

او نفقه کوي لګوي په لاره د الله کې، د بدۍ ځواب په نېکۍ سره ورکوي، د سختې مقابله په نرمۍ سره ښکاره کوي، که د چا له لوري پرې ظلم او تېرۍ وشي؛ نو دی ترې تيريږي، وربخښي يې په دې شرط چې د هغه معافي څخه د بدۍ د ترقۍ اندېښنه نه وي، له بدۍ ځنې ځان ژغوري (بچ کوي) او نيکي غوره کوي، که کله ترې کوم بد کار صادر شي؛ نو د هغه په مقابل کې ښه کار کوي، يعنې ترې توبه وباسي، او د هغې ګناه په عبادت او سخاوت سره تلافي هم کوي؛ نو د دې حسنه وو اعمالو کوونکي لپاره ښه عاقبت د هغه جهان ور په برخه کيږي.

﴿يَدۡخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ﴾ الآيه ـ يعنې چې په همغه جنت کې به همېشه اوسيږي، او پرښتې به ننوځي پر دوی سره له تحائفو او زيري د رضوان له هرې دروازې د مانيو د دوی، او وايې به ورته چې: سلامتيا دې وي پر تاسې په سبب د صبر کولو ستاسې په طاعت او مصيبت او له معصيته، نو ښه عاقبت د دار د آخرت عاقبت ستاسې دی.

د «آباء ـ پلرونو» لفظ يې تغليبًا ويلی دی، چې په هغه کې امهات ـ مېندې هم شاملې دي، د جنت د زيري دغه زيات بشارت يې هم واوروه؛ چې داسې کاملينو ته د هغو پاس بيان شوی، ښو خويونو او خصالو په بدل يو دغه نعمت او خوشالي به هم حاصل وي؛ چې دوی سره له خپلو هغو مېندو او پلرونو او اولادونو او ښځو چې د خپل ايمان او نېکۍ لامله د جنت د دخول لايق شوي وي؛ ګرد سره يو ځای کيږي، تر دې که د دغو متعلقينو د کوم يو رتبه کمه هم وي؛ نو حق تعالى پخپلې مهربانۍ سره د هغه رتبه هم لوړوي (اوچتوي)، او دغه کامل سړي سره يې نژدې کوي، لکه چې په (۲۷) جزء د «الطور» سورت په (۲۱) آيت اوله رکوع کې راغلي دي: ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱتَّبَعَتۡهُمۡ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَٰنٍ أَلۡحَقۡنَا بِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ﴾.

له دې نه معلومه شوه چې بې له ايمان او بې له صالح عمله محض د کاملينو قرابت کافي نه دی، هو ! که ايمان او صالح عمل موجود وي؛ نو د قرابت له تعلقه د درجاتو ترقي ممکنه ده، والله أعلم.

وَٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهۡدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقۡطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴿٢٥﴾

او هر هغه کسان چې ماتوي دوی عهد د الله وروسته د محکموالي د هغه (په قبول او اقرار سره) او پرې کوي دوی هغه شی چې امر (حکم) کړی دی الله په هغه سره چې وصل دې کړی شي، او فساد کوي دوی په ځمکه کې (په کفر او ظلم سره)؛ دغه کسان شته دوی ته لعنت لرې والی له رحمت د الله (دنيوي عذاب)، او شته دوی ته بد عاقبت د دار (د آخرت چې اور دی).

تفسير: د سعداوو او نېکبختانو په مقابل کې دلته د اشقياوو عادات او خصال او د دوی آخري پای (خاتمه) او انجام ښوولی شوی دی، د اشقياوو کار دا دی چې له الله تعالی سره بد عهدي کوي، د هغو شيانو د وصل او پيوند کولو حکم چې صادر شوی وي؛ هغه ماتوي، په ملک کې د فتنې او فساد اور اچوي، پر خپل ځان او نورو باندې له ظلم کولو څخه لاس نه اخلي، همدغه خلق دي چې د الله تعالی له رحمته لرې غورځولي شوي دي، او له ډېرو بدو ځايونو څخه يو ځای ته رسېدونکي دي.

اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ وَفَرِحُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۗ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ ﴿۲۶﴾

الله پراخوي رزق روزي هر هغه چا ته چې اراده وفرمايي د (فراخی يې) او تنګوي (يې پر هغه چا چې اراده وفرمايي د تنګولو يې)، او خوشاله دي (کفّار) په دې ژوندون لږ خسيس، او نه دی دا ژوندون لږ خسيس په (مقابل د) آخرت کې مګر لږ متاع (حقير مال).

وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۗ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ اَنَابَ ﴿۲۷﴾

او وايي هغه کسان چې کافران شوي دي: ولې نه ده رالېږلې شوې پر دغه (محمد) باندې (هغه معجزه په نبوت د ده چې مونږ يې وغواړو) له (طرفه) د رب د ده؟ ووايه (ای محمده دوی ته) بېشکه الله ګمراه کوي هغه څوک چې اراده وفرمايي، او هدايت کوي په طرف خپل (سمه صافه لاره ښيي بې د ليدلو د آيت) هغه چاته چې رجوع وکړي (الله ته).

تفسير: مشرکينو په سلهاوو معجزې او نښې کتلې، مګر د خپلو هغو خبرو څخه له سره نه اوښتل چې هغه معجزه او نښه چې مونږ يې غواړو؛ راوښيه ! مثلاً د مکې معظمې غرونه ځمونږ له شاوخوا څخه لرې کړه ! چې د کرلو او زراعت لپاره څه وسعت پيدا شي، يا ځمکې څيرې کړه چينې او ويالې راوبهوه ! يا ځمونږ پخواني مشران بيا راژوندي کړه ! او له مونږ سره يې په خبرو او اترو راوله.

الغرض کومه داسې يوه معجزه راوښيه چې مونږ په ايمان راوړلو باندې مجبور کړي، نو د هغه ځواب داسې ورکوي چې بېشکه الله تعالی د داسې معجزې او نښې پر ښوولو قدرت لري، ليکن د ده حکمت او عادت د دې خبرې مقتضي نه دی چې ستاسې د داسې غوښتنې تکميل وکړي، د انبياوو عليهم السلام د تصديق لپاره هومره چې ضرورت دی؛ له هغه څخه زائدې نښې او معجزې درښوولې شوي دي، او درښوولي کيږي، د نورو سلهاوو معجزاتو څخه ستر ګې واړوئ، يواځې همدغه پاک قرآن د نبي الله د صداقت يو عظيم الشأن نښان دی، کله چې تاسې سره د دغو د ليدلو سره پر سمه لار رانغلئ، او د حق په لوري مو رجوع ونه کړه؛ نو معلومه شوه چې سم له قديمي قانون سره د پاک الله مشيئت پر هم دې خبرې تللی دی، چې تاسې په همغه چې تاسې غوره کړې لاره چې ګمراهي ده؛ خوشي کړي، بلا شبهه تاسې سره له دومره لويې معجزې او نښې د ليدلو سره بيا هم ايمان نه راوړئ، او د هغه په لوري رجوع نه کوئ.

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ ۗ

(دغه رجوع کوونکي) هغه کسان دي چې ايمان يې راوړی دی او ارام نيسي زړونه د دغو په ذکر د الله سره،

تفسير: دا د الله تعالی په طرف د رجوع کوونکو بيان دی، يعنې د چا چې د ايمان دولت په برخه کيږي؛ نو له ذکر الله يعنې د الله تعالی له ياده اطمينان او ډاډينه (سکون) حاصلوي، ځکه چې له ګردو څخه لوی ذکر خو لوی قرآن دی: ﴿اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ﴾ چې د هغه په لوستلو په زړونو کې د يقين کيفيت پيدا کيږي، او شيطاني شبهات او وسوسې لرې

کيږي، او سکون او اطمينان ور ميسر کيږي، له يوه جانبه که د الله تعالى عظمت او مهابت په زړونو کې خوف او خشيت پيدا کوي؛ نو له بله طرفه د رب العالمين لا محدود رحمت او مغفرت د قلبي سکون او راحت سامان وررسوي.

الغرض د دوی زړونه له هر لوري څخه مات وي، او يواځې د پاک الله په لوري ګرځي، او د همغه په لويي او قدرت باندې ځان سپاري، او د ذکر الله نور د دوی له قلوبو څخه نور هر ډول دنيوي وحشت او وېره ورکه کوي.

أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾

واورئ خبردار شئ ! چې په ذکر د الله سره مطمئن کيږي ارام نيسي زړونه (د مؤمنانو).

تفسير: يعنې دولت ـ حکومت ـ منصب ـ جايداد او د فرمايشي معجزو ليدل او نور شيان له سره انسان ته حقيقي سکون، اطمينان او ارام نشي يو ځای کولی، يواځې له ذکر الله څخه هغه مع الله تعلق راحاصليږي، چې له هغه څخه د زړونو اضطراب او وحشت لرې کيږي.

الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ طُوبَىٰ لَهُمْ وَحُسْنُ مَآبٍ ﴿٢٩﴾

هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه) طوبی (ښه حال) دی دوی ته، او ښه ځای د هستوګنې (جنت) دی.

كَذَٰلِكَ أَرْسَلْنَاكَ فِي أُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهَا أُمَمٌ لِّتَتْلُوَ عَلَيْهِمُ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمَٰنِ ۚ قُلْ هُوَ رَبِّي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ مَتَابِ ﴿٣٠﴾

همدارنګه (لکه چې مو ليږلي وو انبياء پخوا له تا) ليږلی يې مونږ ته (ای محمده !) په داسې يو امت کې چې په تحقيق تېر شوي دي پخوا له دې نه ډېر امتونه، چې ولولې ته پر دوی هغه (قرآن) چې وحي کړې ده مونږ تاته، حال دا چې دوی کافران دي په رحمان، ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې دغه (رحمن) رب ځما دی، نشته بل هيڅ لايق د عبادت مګر يواځې همدی دی، پر همده توکل کړی دی ما او خاص همده ته بيا ورتله او رجوع زما دي.

تفسير: يعنې ای محمده صلى الله عليه وسلم ! ستا تاکل (مقررول) او ليږل پر نبوت باندې کومه عجيبه او نوې خبره نه ده، پخوانيو امتونو ته هم انبياء ليږلی شوي دي، نو هغه بد عاقبت او خرابه نتيجه چې د هغو مکذبينو شوې ده؛ ښايي چې هغه احوال دې د دغو خلقو تر نظر لاندې هم وي.

﴿وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمَٰنِ﴾ «حال دا چې دوی کافران دي په رحمان باندې»، يعنې «رحمن» په خپل کامل رحمت دغه عظيم الشأن قرآن نازل کړی دی، ﴿الرَّحْمَٰنُ عَلَّمَ الْقُرْآنَ﴾ او ته مو ای محمده رسول الله صلى الله عليه وسلم ! رحمة للعالمين ګرځولئ او ليږلی يې، مګر دوی سختې ناشکری او د نعمت کفران ته ملاوې ټرلې دي، د «رحمن» د حق منلو څخه منکران شوي دي، بلکه د «رحمن» او «رحيم» له نامه څخه هم سخت وحشت خوري او تر ټرهيږي، نو ځکه د «حديبيه» په صلحنامې (روغليکه) کې دوی پر ﴿بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾ ليکلو باندې جګړې کولې.

وَلَوْ أَنَّ قُرْآنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ أَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْأَرْضُ أَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتَىٰ ۗ بَل لِّلَّهِ الْأَمْرُ جَمِيعًا ۗ

او که په تحقيق يو قرآن (داسې وی په عالم کې چې) روان کېدلی په (لوستلو د) ده سره غرونه، يا څير بدلی ټوټې ټوټې کولی شو پرې ځمکه، يا په خبرو راوستلی شو په هغه سره مړي؛ (نو بيا

به هم ایمان نه وو راوړی دوی)، بلکه خاص الله ته دی (اختیار د دې) امر ټول (او الله یې کولی شي هر کله چې اراده وفرمایي).

تفسیر: دلته له قرآن څخه عام کتاب مراد دی، لکه چې په یو حدیث کې پر «زبور» شریف د قرآن د لفظ اطلاق شوی دی، یعنې که کوم داسې یو کتاب لږلی کېدی چې په هغه سره ستاسې د غه غوښتلې شوې معجزې او نښې پوره کېدی؛ نو هغه به پرته (علاوه) له همدغه قرآن کریم څخه بل کوم کتاب کېدی شو، همدغه قرآن عظیم دی چې په روحاني ډول سره د غرونو په شان وچ کلک خلق یې له خپلو ځایونو څخه وخوځول، د بنیادمانو د زړونو ځمکې یې څیرې کړه، او د الله تعالی د معرفت چینې یې ورڅخه راوبهولې، او د وصول الی الله لارې یې د کلونو په ځای په څو شېبو (لحظو) کې پر دوی پرې کړې، په مړو قومونو کې او په مړو زړونو کې یې د ابدي ژوندون روح ورننه ایسته، کله چې له داسې لوی قرآن څخه تاسې ته شفاء او هدایت روزي نه شو، نو فرض یې کړئ که ستاسې د غوښتنې سره سم دغه عظیم الشان قرآن په مادي او حسي ډول (طریقه) سره هم هغه ځای کرد (ټول) شیان تاسې ته دروښیي، چې تاسې یې غواړئ؛ نو بیا هم له تاسې داسې هیله (ارزو) او امید نشي کېدی، چې تاسې به ایمان راوړئ.

أَفَلَمْ يَايْئَسِ الَّذِينَ آمَنُوا أَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ لَهَدَى النَّاسَ جَمِيعًا ۗ وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُوا قَارِعَةٌ أَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا مِّن دَارِهِمْ حَتَّىٰ يَأْتِيَ وَعْدُ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ ﴿٣١﴾

آیا لا ناامیده شوي نه دي هغه کسان چې ایمان لرونکي دي (له ایمان د دغو کسانو په داسې حال کې چې دغه مؤمنان پوهیږي) که اراده فرمایلې وی الله (د هدایت د ټولو خلقو)؛ نو خامخا به یې هدایت فرمایلی وو ټولو خلقو ته (نو ایمان نه راوړي مګر هغه چې الله اراده د ایمان راوړلو یې وفرمایي)، او همېشه هغه کسان چې کافران شوي دي؛ رسېږي دوی ته په سبب د هغو عملونو چې کړي دي (د عناد او تکذیب نه) زړه ټکوونکی یا خوځوونکی عذاب، یا چې نښته شي (دغه قارعه یا ته ای محمده) نژدې کورونو د دوی ته تر هغه پورې چې راشي وعده د الله (په نصرت د تا او ترقی د دین)، بېشکه چې الله هیچېرې نه کوي خلاف له وعدې (خپلې).

تفسیر: یعنې دغه د مکې معظمې کفار سره د خپلو غوښتلو شویو معجزو او دلائلو د لیدلو هم ایمان راوړونکي نه دي، دوی خو به داسې هغه ومني چې برابر کوم آفت او مصیبت پخپله پر دوی یا د دوی په شاوخوا خلقو ولوېږي، او دوی د هغه د لیدلو څخه عبرت حاصل کړي، مثلاً په جهاد کې د مسلمانانو په لاسونو د دوی څه سړي مړه شي، یا یې څه سړي بندیان شي، او څه یې د څه نورو مصائبو په منګولو کې ولوېږي، دغه سلسله به تر هغه وخته پورې دوام ولري چې د پاک الله وعده پوره شي، یعنې مکه معظمه فتحه شي، او «جزیرة العرب» د شرک له ګندګۍ څخه پاکه او صافه شي، بېشکه د الله تعالی وعده قاطعه او یقیني ده، او هرومرو (خامخا) پوره کېدونکې ده.

ځینو مفسرانو په ﴿أَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا مِّن دَارِهِمْ﴾ کې د رسول الله په لوري خطاب منلی دی، یعنې چې تاسې د دوی کلي ته نژدې ورښکته شئ، لکه چې په «حدیبیه» کې وشو، نو په دغه تقدیر سره له «قارعه» څخه به هغه سرایا مراد وي؛ چې په هغوی کې رسول الله مبارک صلی الله علیه وسلم بالذات شرکت فرمایلی دی، له ځینو اسلافو څخه منقول دي چې دغه آیت د ګردو کفارو په حق کې عام دی، او په مکیانو (مکې والاوو) پورې څه تخصیص نه لري، والله أعلم.

وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَمْلَيْتُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴿٣٢﴾

او خامخا په تحقیق مسخرې کړی شوې وې له (نورو ډېرو) رسولانو پخوا له تا نه (لکه چې ستا قوم په تا پورې کوي)؛ نو مهلت مې ورکړی وو هغو کسانو ته چې کافرانو شوي وو (پس له

تمسخره څه مدت په عشرت کې)، بيا مې ونيول دوی (په عذاب سره)، نو څرنګه به وو عقوبت (عذاب ځما يعنې ډېر سخت وو).

تفسير: يعنې که په سزا رسېدلو کې څه ځنډ وشي؛ نو داسې مه ګڼئ چې نجات مو وموند، پخوانيو مجرمينو ته هم ډومبی مهلت ورکړی شوی وو، بيا کله چې ونيول شول؛ نو وګورئ چې په داسې بده ورځ اخته شول، چې تر ننې ورځې پورې د دوی د تباهۍ او بربادۍ قصې د خلقو پر ژبو باندې جاري دي.

أَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ۗ وَجَعَلُوا۟ لِلَّهِ شُرَكَآءَ ۚ قُلْ سَمُّوهُمْ

آيا نو هغه ذات چې وي دی ولاړ (ساتونکی) پر هر نفس (صالح او طالح باندې) سره له هغه عمل چې کړی وي (او په جزا يې هم رسوي؛ دا داسې دی لکه هغه څوک چې داسې نه وي؟ بلکه داسې نه دی !)، او ګرځولي دي (کفارو) الله ته شريکان، ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې واخلئ نومونه د دوی (او اداء کړئ صفتونه د دوی چې آيا مستحق د عبادت او شرکت دي که نه دي؟).

تفسير: يعنې هغه الله چې د هر انسان هر عمل په هر وخت کې ليدی شي، او هر شی د ده تر کتنې لاندې دی، او يوه شېبه (لحظه) له هيڅ شي نه نه غافليږي، که څوک لږ څه شرارت هم وکړي، په همغه وخت کې يې جزا ورکوي، او هم ورته تنبيه ورکولی او په سزا يې رسولی شي، نو آيا مجرم له دې نه ځان خلاصولی شي؟ او چېرې تنبتېدلی شي؟ آيا «العياذ بالله» د ده مثال د هغو تيږو (ګټو) او نورو بتانو او باطلو معبودانو په شان کېدی شي، چې دوی نه ليدلی شي، او نه او اورېدلی شي، او نه د خپلو ځانونو او نه د نورو څخه څه ضرر دفع کولی شي، او نه څه ګټه (فائده) ورورسولی شي، او نه يې څه اختيار شته، ډېر تعجب دی، چې د داسې واحد او احد له موجوديت سره دوی د داسې عاجز او حقير مخلوق په مخ کې ولې سر ښکته کوي؟ .

﴿قُلْ سَمُّوهُمْ﴾ يعنې لږ څه خو وړاندې لاړ شئ، او د دغو شريکانو نومونه خو واخلئ ! او سراغ او پته يې راوښيئ ! آيا د پاک الله د دغو صفاتو له اورېدلو څخه چې پاس مو واورېدل؛ کوم حياء داره سړی به د هغو تيږو (ګټو) نوم هم اخيستی شي ! او که کوم مشرک له بې حيايۍ څخه د «لات» او «عزی» نوم واخلي؛ نو آيا کوم عاقل به په هغه لوري التفات هم کولی شي؟ .

أَمْ تُنَبِّـُٔونَهُۥ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى ٱلْأَرْضِ أَم بِظَٰهِرٍ مِّنَ ٱلْقَوْلِ ۗ

بلکه آيا خبر ورکوئ تاسې الله ته په هغه باطل معبودانو چې نه دي معلوم الله ته په ځمکه کې (يعنې نشته، که وي؛ نو معلوم به وو الله ته)، بلکه (مسمّی کوي دوی شرکاء) په ظاهره وينا سره (بې له اعتباره د معنی)؛

تفسير: يعنې پاک الله ته د ټولې ځمکې په مخ کې د خپل الوهيت هيڅ يو شريک او حصه دار نه دی معلوم، ځکه چې هغه خو له سره نشته، چې معلوم وی نو آيا تاسې هغه ته داسې شی ښوولی شئ؛ چې ده ته نه دی معلوم؟ العياذ بالله.

﴿أَم بِظَٰهِرٍ مِّنَ ٱلْقَوْلِ ۗ﴾ پخوا يې وفرمايل چې: د دغو شرکاوو خو لږ څه نومونه راوښيئ ! بيا يې تنبيه وفرمايله چې د هغه شی چې په واقع کې له سره ثبوت نشته؛ نو تاسې به يې نوم څرنګه اخيستی شئ؟ اوس دا راښيي چې د کوم څيز پاک الله ته شريک پيدا کول تش الفاظ محض او يو غږ دی، چې د هغه لاندې هيڅ حقيقت نشته، له مجردو ظنونو او تخمينونو او باطلو اوهامو څو بې معنا الفاظ له سره بامعنی نه شي کېدی.

بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا مَكْرُهُمْ وَصُدُّوا عَنِ السَّبِيلِ ۗ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾

(داسې نه دي) بلکه ښایسته کړی شوی دی هغو کسانو ته چې کافران شوي دي مکر دروغ د دوی، او بند (او اړولي) شوي دي دوی له سمې لارې (د دین څخه)، او هر څوک چې ګمراه کړي الله (هغه لره)؛ نو نشته ده لره هیڅ لارښوونکی (د سمې صافې لارې).

تفسیر: یعنې هر هغه چا ته چې الله تعالی د هدایت توفیق ور نه کړي؛ دی به څوک په سمه لاره راوستی شي؟ ! او الله تعالی همغه ته توفیق ور په برخه کوي چې پخپل اختیار د هدایت وړونه پر خپل ځان نه ټړي.

لَهُمْ عَذَابٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَشَقُّ ۖ وَمَا لَهُم مِّنَ اللَّهِ مِن وَاقٍ ﴿٣٤﴾

شته دوی ته عذاب په ژوندانه لږ خسیس کې (په قتل، حبس، قحط او نورو ربړو «تکلیفونو» سره)، او خامخا عذاب د آخرت ډېر سخت دی (له عذابه د دنیا)، او نه به وي دوی ته له عذابه د الله څخه هیڅ ساتونکی.

تفسیر: یعنې مقرر دي کافرانو ته دنیوي عذابونه د مجاهدینو په لاسونو یا بلا واسطه د الله تعالی له طرفه، او خامخا عذاب د آخرت ډېر سخت دی، او نه به وي دوی ته له عذابه د الله تعالی څخه هیڅ ساتونکی، یعنې بې له سزا ورکولو څخه به یې نه پرېږدي، نو بیا د هغه ځای د سزا ورکولو څخه یې څه پوښتنه کوئ؟.

مَّثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ۖ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ أُكُلُهَا دَائِمٌ وَظِلُّهَا ۖ

مثال (صفت) د جنت هغه چې وعده کړی شوې ده (په هغه سره) پرهیزګارانو ته (دا دی چې) بهیږي (همېشه) له لاندې (د باغونو او ماڼیو) د هغه ویالې، مېوې د هغې به همېشه (بې انتهاء بلا انقطاع) وي، او سوری د هغه (به هم همېشه وي بې زواله).

تفسیر: چې د هغه هیڅ نوعه هیڅکله نه ختمیږي، او تل به همغه شی وررسیږي چې دی یې وغواړي: ﴿لَّا مَقْطُوعَةٍ وَلَا مَمْنُوعَةٍ﴾ (د الواقعه سورت اوله رکوع، ۳۳ آیت، ۲۷ جزء).

تِلْكَ عُقْبَى الَّذِينَ اتَّقَوا ۖ وَّعُقْبَى الْكَافِرِينَ النَّارُ ﴿٣٥﴾

دا (جنت) عاقبت (او مرجع) دی د هغو کسانو چې پرهیزګاري کوي، او عاقبت د کافرانو اور (د دوزخ) دی.

تفسیر: یعنې په دغه آیت کې د أهل الحق او د أهل الباطل خاتمه او انجام یو د بل په مقابل کې سره بیان وفرمایه، وبضدها تتبین الأشیاء.

وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَفْرَحُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمِنَ الْأَحْزَابِ مَن يُنكِرُ بَعْضَهُ ۚ قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا أُشْرِكَ بِهِ ۚ إِلَيْهِ أَدْعُو وَإِلَيْهِ مَآبِ ﴿٣٦﴾

او هغه کسان چې ورکړی دی مونږ دوی ته کتاب (او بیا یې اسلام هم راوړی دی)؛ خوشالیږي په هغه (قرآن) چې نازل شوی دی تاته او ځینې له فرقو (د اهل الکتاب) څخه هغه دي چې نه مني ځینې احکام د دې قرآن، ووایه (ای محمده ! دوی ته) بېشکه امر (حکم) شوی دی ماته په دې

چې عبادت کوم زه د الله، او شریک نه نیسم له دغه (الله) سره (هیڅوک په عبادت کې)، خاص د همغه طرف ته بولم (تمام عالم) او خاص همده ته دي ورتله (ځما او د ټولو په آخرت کې).

تفسیر: هغوی ته چې اوس قرآنکریم ورکړی شوی دی یعني مسلمانان، او هغوی ته چې پخوا له دې نه تورات ـ انجیل او نور ورکړی شوي دي یعني یهودان او نصرانیان؛ د هغه شي د اورېدلو څخه خوشالېږي چې پر تاسې نازل کړی شوی دی، د مسلمانانو خوښېدل خو ظاهر دي چې دوی همدغه کتاب د دارینو د فلاح مفتاح (کونجي) ګڼي، باقي په یهودو او نصاراوو کې هغه خلق چې اهل العلم او د انصاف خاوندان او في الجمله حق منوونکي وو؛ نو هغوی ته هم د یوه راز (قسم) مسرّت موقع وه، ځکه چې هغوی به لیدل چې لوی قرآن په څه ارته سینه د دوی د اصلي کتابونو په تصدیق او د انبیاوو په تعریف او تعظیم کې رطب اللّسان دی، بلکه د رښتینو احبارو او رهبانانو وجود هم په مدح کې معروض شوی دی.

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا﴾ (د المائدې سورت ۱۱ رکوع)، لکه چې همداسې قسم منصف او حق خوښوونکي یهود او نصاری بالآخره په اسلام سره هم مشرّف شول.

﴿وَمِنَ الْأَحْزَابِ مَنْ يُنْكِرُ بَعْضَهُ﴾ یعني یهود او نصاری، یا د عربو جاهلانو هغه جماعات هم دي چې له پاک قرآن څخه ځکه ناخوښ دي؛ چې دوی د دې قرآن د ځینو شیانو څخه انکار کړی دی، او دا همغه شیان دي چې د دوی د تحریف او تبدیل یا د آراوو او أهواؤو په خلاف دغه لوی قرآن بیان فرمایلی دی.

وَكَذَٰلِكَ أَنْزَلْنَاهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا ۚ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ بَعْدَ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا وَاقٍ ﴿٣٧﴾

او لکه (چې نورو انبیاوو ته پخوا مو کتابونه لېږلي وو په ژبو د قومونو د دوی؛) نازل کړی لېږلی مو دی دغه (قرآن) حکم کوونکی په عربي ژبه، او قسم دی که متابعت وکړې ته (ای محمده !) د خواهشونو د دغو (مشرکانو او کتابیانو) وروسته له هغه چې راغلی دی تاته علم (په توحید او په نسخ د دین د دوی)؛ نو نه به وي تاته له جانبه د الله څخه هیڅ ولي (یار مددګار) او نه ساتونکی (له عذابه د الله).

تفسیر: یعني لکه چې ړومبی پخواني کتابونه رالېږلي شوي دي؛ په دغه وخت کې دا قرآن رانازل کړ شو، چې پر لوړ (اوچت) او عظیم الشأن معارفو او حکمونو مشتمل او د حق او باطل آخري فیصله کوونکی دی، بیا همغسې چې هر نبي ته په همغه ژبه کې کتاب ورکړی شوی دی چې د هغه قومي ژبه ده، همداسې محمد عربي صلی الله علیه وسلم ته هم عربي قرآن ورکړی شوی دی، بلا شبهه د دې عظیم الشأن قرآن په شان معجز او جامع کتاب نشایي په همداسې یوې ژبې نازلېده چې نهایته بلیغه ـ وسیعه ـ جامعه ـ منضبطه ـ واضحه او پر مغزه وي، او د پر شوکت توب لامله د «أم اللغات وملکتها» د صفت وړه او مستحقه وي.

﴿وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ﴾ الآیه ـ یعني د هیڅا د انکار او د ناخوښۍ د یوې ذرې په قدر پروا مه کوئ، هغه کامل او عظیم عالم چې الله تعالی تاته درکړی دی؛ د همغه متابعت کوئ ! که بالفرض د دې خلقو د دغو غوښتنو په لوري متمائل شوئ؛ نو د هغه له وبال څخه به دې څوک وژغورلی (بچ کړی) شي؟ دغه خطاب د حق ګردو (ټولو) طالبانو ته دی، اګر که دلته پخپله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مخاطب دی، خو مقصود له دوی سره خطاب او نورو ته اورول او لارښوونه ده، په صواب لکه چې پخوا له دې نه په څو نورو ځایونو کې د ده اشباه او نظائر تېر شوي دي.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً ۚ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ﴿۳۸﴾

او خامخا په تحقيق لېږلي وو مونږ د پر رسولان (انسانان) پخوا له تا نه (لکه چې رالېږلی مو يې ته) او ورکړي وو مونږ دوی ته ښځې او اولادونه، او نه ښايېږي لپاره د هيڅ رسول (او نه توانېږي) دا کار چې راوړي داسې يوه معجزه (چې خلق يې غواړي) مګر په اذن د الله سره، لپاره د هر وخت او حادثې يو حکم دی (چې پخپله نېټه همغسې کېږي).

تفسير: يعنې عربي رسول ته نوې کتاب او نوي احکام ورکول او مبعوثول کومه نوې او عجيبه خبره ده؟ چې دومره حجّتونه پيدا کوي؟ آخر مونږ پخوا له دې نه هغه انبياء عليهم السلام چې ليږلي دي، هغوی د اسمان پرښتې نه وې، او د همدې دنيا له هستېدونکو څخه انسانان وو، چې ډوډۍ به يې خوړه او خپل ګرد ضروريات به يې پخپلو لاسونو سره پوره کول، او د ښځو او ووړکيو خاوندان به وو، په دوې کې هيڅ يوه د دې خبرې قدرت نه درلود؛ چې هرومرو همغه خلقو ته وروښيي چې هغوی يې غواړي، بلکه د موجوده رسول الله په شان هر شي کې د پاک الله تعالى اذن ته منتظر وو، او همغه معجزې به يې ورښوولې، او همغه احکام به يې اورول چې دهغه اذن د الله تعالى له درباره کېده.

بيا کله چې هر نبي د خپلې زمانې سره مناسب احکام راوړي، صداقت ورښوولو لپاره د عمومو د غوښتنو تکميل ته اړ (محتاج) او مجبور نه وي، او نه يې خپل ځان د بشريه وو حوائجو او معاشرتي تعلقاتو څخه بې پروا او پورته ظاهر کړی وي، نو د همدغو شيانو موجوديت په محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم کې د دوی له نبوت څخه د انکار دليل څرنګه کېدی شي؟.

يَمْحُو اللَّهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ ۖ وَعِندَهُ أُمُّ الْكِتَابِ ﴿۳۹﴾

محوه کوي الله هغه چې اراده وفرمايي (د محوه کولو يې) او ثابتوي (هر هغه چې اراده وفرمايي د اثبات يې)، او په نزد د الله اصل د هر کتاب (چې لوح محفوظ) دی (چې هر شی په کې ليکلی شوي دي).

تفسير: يعنې سم له خپل حکمت سره د هر حکم د منسوخيت ـ يا د هر حکم د دوام اراده چې وفرمايي ـ او هر قوم د محوه کولو، او د هغو په ځای د بل قوم د درولو ـ او د هغو اسبابو د تاثير د بدلولو، او د هغو وسائلو د تاثير د پرښوولو ـ او سره د موجوديت د شرائطو د يوې وعدې اظهار او بې د شرائطو له موجوديت د بلې وعدې د نه ظاهرولو، الغرض هر قسم تبديل او تغيير، محوه او اثبات، نسخ او احکام د ده په لاس کې دی، د قضاء او قدر تمام دفاتر د ده په قبضه کې دي، او د ګردو تفصيلاتو او دفاترو اساس ته ښايي چې «أم الكتاب» ووايه شي.

وَإِن مَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ ﴿۴۰﴾

او که وښيو مونږ خامخا تاته (په حيات ستا کې) ځينې له هغه (عذابه) چې وعده يې کوو مونږ له دغو (کفّارو) سره (د دې عذاب) يا که وفات کړو مونږ تا (په خوا له دې تعذيبه د کفارو؛ نو پر تا څه ملامتيا نشته)؛ نو بېشکه همدا خبره ده چې په تا رسونه د پيغامونو (او بيانول د احکامو) دي، او پر مونږ دی حساب (او جزا ورکول د دوی).

تفسير: يعنې هغه وعده چې مونږ له دوی سره کړې ده؛ مونږ اختيار لرو چې له هغو ځينې اوس ستاسې په ژوندون پوره کړو، يا ستاسې له وفاته يې وروسته ظاهره کړو، نه ښايي چې تاسې د هغو د ظهور په فکر کې ولوېږئ، او نه هغو خلقو

لره لازم دي چې د دغه تأخير او امهال له لیدلو څخه ېفکره شي، د الله تعالی په علم کې د هر شي لپاره مناسب وخت مقرر دی، چې د هغو په رسېدلو سره هغه خامخا ښکاریږي، تاسې د خپل تبلیغ فریضه اداء کړئ، د مکذبینو حساب مونږ پخپله ګورو او خلاصوو یې.

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ ۚ وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٤١﴾

آیا نه ګوري (کفّار) چې په تحقیق راځو مونږ ځمکې (د دوی) ته چې کموو یې (فتحه کوو یې مسلمانانو ته) له څنډو (غاړو) د دې، او الله حکم کوي (په هر څه چې اراده وفرمایي)، نشته هیڅوک رد کوونکی لپاره د حکم د الله، او الله ډېر ژر حساب کوونکی دی.

تفسیر: یعنې د مکې معظمې د ځمکې په شاوخوا کې د اسلام اثر خوریږي، او د کفر رسم او رواج ورځ په ورځ کمیږي، د لویو لویو قبائلو او اشخاصو په زړونو کې د اسلام نور او تأثیر ځای نیسي، د (اوس) او (خزرج) زړونه د حق او صداقت په مقابل کې مفتوح شوي دي، همداسې مونږ ورو ورو د کفر حکومت کمزوروو، او قوت او قدرت یې کموو، نو آیا دغه روښانه آثار دغو مکذبینو ته دا نه ورښیي چې د پاک الله فیصله د دوی د مستقبل په متعلق شوې ده، یو عقلمن سړی پر دې ښه پوهیږي په هغه تګ چې نن اسلام پرې پر مخ ځي، د هغه مخه هیڅ یو طاقت نشي نیولی، لهذا د خاتمې خیر او ښېګڼه په همدې کې ده چې هغه راتلونکې شي، راغلې او واقعي وګڼی شي.

وَقَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَلِلَّهِ الْمَكْرُ جَمِيعًا ۖ يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ ۗ وَسَيَعْلَمُ الْكُفَّارُ لِمَنْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿٤٢﴾

او په تحقیق مکر فرېب کړی وو (له خپلو انبیاوو سره) هغو (کفارو) چې پخوا له دغو څخه وو (لکه چې دغه کفّار مکر کوي له تا سره ای محمده !)؛ نو خاص الله لره دي چلونه ټول، معلوم دی الله ته هر هغه (ښه او بد) چې کوي یې هر نفس، او ژر به پوه شي کفّار چې چاته به وي (ښه) خاتمه د دار (د آخرت).

تفسیر: یعنې که د پاک الله اراده نه وي؛ نو ګرد مکر او فرېب بې اثره پاتې کیږي، یا دا چې الله تعالی د دوی هغه ګرد فرېب او مکر ماتوي، «مکر» په اصل کې خُفیه تدبیر ته وایي، که د بدۍ لپاره وکړی شي بد دی، او که د ښو چارو او د بدۍ د لرې کولو لپاره وکړ شي؛ ښه دی، یعنې دوی په پټه پټه سره ناپاکه چلونه وکړل، لیکن د الله تعالی چل پر ګردو باندې غالب شو، او سرچپه (الټه) هغه ګرد چلونه پر دوی باندې غورځوي، ﴿وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ ۚ﴾ (۲۲ جزء د فاطر سورت (۴۳) آیت (۵) رکوع).

وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَسْتَ مُرْسَلًا ۚ قُلْ كَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِندَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ ﴿٤٣﴾

او وایي هغه کسان چې کافران دي (تاته ای محمده !) چې نه یې ته لېږلی شوی (د الله له لوري په نبوّت سره)، ووایه (ای محمده ! دوی ته) بس کافي دی الله شاهد په منځ ځما او ستاسې او بل (کافي دی په شاهدۍ کې) هغه څوک چې په نزد د ده علم د کتاب دی.

تفسیر: یعنې ستاسې له تکذیب څخه هیڅ نه کیږي، ځکه چې الله قدوس ځما د صداقت لویې لویې نښې درښیي، قرآن کریم چې د الله تعالی کلام دی لکه چې پخپل کلام الله توب باندې شهادت ورکوي؛ همداسې ځما د نبوّت پر حقانیت هم شاهد دی، که سترګې وغړوئ؛ نو په سختو ناموافقو حالاتو کې د صداقت په داسې ښه شان سره خوربدل، او د

دښمنانو تر زړونو پورې دغه خپل اثر غورځول، او د دروغو مغلوب او مقهور کېدل، او په يوه لوري سره غونډېدل او د اسلام نور موفقيت د الله تعالى له جانبه ځما پر حقانيت باندې ښکاره دليل او شهادت دى.

﴿وَمَنْ عِنْدَهُۥ عِلْمُ ٱلْكِتَٰبِ﴾ - «او بل کافي دى په شاهدي کې هغه څوک چې په نزد د ده دى علم د کتاب»، يعنې هغه څوک چې د قرآن له علمه خبردار او د ده پر حقانيت مطلع دي؛ دى هم د دې شاهد دى چې ما له خپله ځانه څه دروغ نه دي جوړ کړي، لکه اهل د بلاغت او فصاحت له مؤمنانو، او هم هغه کسان لکه عبد الله بن سلام او ملګري د دوى، چې له پخوانيو سماويه وو کتابونو -او د هغو له وړاندوينو څخه اطلاع لري؛ د هغو زړونه ګواهي ورکوي چې محمد صلى الله عليه وسلم له همغو وړاندوينو سره سم تشريف راوړى دى، چې په سلهاوو کلونو پخوا له دې نه موسى او عيسى عليهما السلام فرمايلې وې.

تمت سورة الرعد بعون الله وحسن توفيقه.

سُورَةُ إِبْرَاهِيمَ

«د ابراهيم سورت مکي دی، پرته له (۲۸) او (۲۹) آيتونو څخه چې مدني دي، (۵۲) آيته او (۷) رکوع لري، په تلاوت کې (۱۴) او په نزول کې (۷۲) سورت دی، وروسته د نوح له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

الر كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ﴿۱﴾
اللَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ وَوَيْلٌ لِّلْكَافِرِينَ مِنْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿۲﴾ الَّذِينَ يَسْتَحِبُّونَ الْحَيَاةَ
الدُّنْيَا عَلَى الْآخِرَةِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا ۚ أُولَٰئِكَ فِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿۳﴾

(دا قرآن) يو کتاب دی چې نازل کړی (لېرلی) دی مونږ تا ته لپاره د دې چې راوباسي خلق (په دې کتاب سره) له تيارو د کفر څخه رڼا د ايمان ته، په اذن د رب د دوی (طرف د) لارې د هغه الله ته چې ښه غالب دی (په انفاذ د احکامو) ښه تل ثنا ويلی شوی دی (په محامدو). هغه الله چې خاص ده ته دي هر څه چې په اسمانونو کې دي (له علوياتو) او هر هغه چې په ځمکه کې دي (له سُفلياتو سره د اسمانونو او د ځمکو)، او خرابي (عذاب، مصيبت، اور) ده لپاره د کفارو له عذابه سخته. هغه کفار چې خوښوي (او غوره کوي له ډېره حماقته) ژوندون لږ خسيس پر آخرت او اړوي (خلق) له لارې د الله (چې دين او متابعت د رسول الله دی)، او لټوي دوی دغې لارې ته کوږوالی؛ دغه کسان په ګمراهۍ لرې کې دي (له حقه).

تفسير: يعنې د دې کتاب د شان عظمت له دغې خبرې څخه ښايي وکړ شي؛ چې مونږ د هغه نازل کوونکي يو، او ستاسې په شان يو رفيع الشان شخصيت د هغه حامل او راوړونکی دی، او مقصد يې هم دومره اعلی او ارفع دی؛ چې له هغه څخه بل لوړ او لوی مقصد نشي جوړېدی، او هغه دا دی چې د الله تعالی په حکم او توفيق د تمامې دنيا خلق اعم له دې نه چې عرب وي يا عجم ـ تور وي که سپين ـ مزدور وي که په شتو معمور ـ پاچا وي که رعايا؛ ګرد سره د جهالت له لوګيو، دوړو، او خاورو څخه راويستل، او د ايمان او ايقان په رڼا کې د درولو کوښښ کولی شي.

﴿إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ﴾ يعنې د صحيح معرفت په رڼا کې پر هغې لارې لارې شئ چې د زبردست او غالب او په ستايلو شويو صفاتو سره مطلق شهنشاه او مالک الملوک الله له جانبه ښوولې شوې ده، او د ده د رضاء تر مقام پورې رسوونکې ده.

وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ ۖ فَيُضِلُّ اللَّهُ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ ۚ
وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿۴﴾

او نه دی لېرلی مونږ هيڅ رسول مګر خو په ژبه د قوم د ده لپاره د دې چې بيان کړي دوی ته (امر او نهي د الله)، نو ګمراه کوي الله هر هغه څوک چې اراده وفرمايي (د ګمراهۍ يې)، او هدايت کوي هر هغه چاته چې اراده وفرمايي (دهدايت يې)، او همدی ښه قوي غالب دی (په انفاذ د احکامو)، ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: يعنې همغسې چې مونږ تاسې ته د خلقو د هدايت لپاره دغه عظيم الشان کتاب عطا فرمايلی دی؛ پخوا له دې نه هم په هره زمانه کې مونږ د هدايت وسائل خلقو ته ورلږلي او رسولي دي، کله چې له طبيعي ترتيب سره موافق د هر نبي ږومبنی مخاطب د هغه قوم خلق وي چې په دوی کې هغه نبي مبعوثيږي؛ نو ځکه د هغه قوم په ژبه وحي لږله کيږي، څو د الله تعالی د احکامو په پوهولو کې پوره سهولت او اساني وي.

د نبي کريم عليه السلام په امت دعوت کې اګر که د جهان ګرد انسانان او پيريان شامل دي؛ خو بيا هم په هغه قوم کې چې دوی مبعوث شوي دي؛ د هغوی قوم ژبه عربي وه، او د طبيعي ترتيب په موافق د هدايت د شيوع همدغه يو صورت مقدر وو، چې د دوی ږومبني مخاطبين او مقدم زده کوونکي په داسې سهولت او ښه والي سره په قرآني تعليماتو او حقائقو باندې وپوهيږي؛ چې ښه يې په ياد او محفوظ کړي، څو د دوی په ذريعه د عالم تمام اقوام او راتلونکي نسلونه درجه په درجه په قرآني رنګ سره رنګ کړی شي، لکه چې همداسې هم وشو، عربو د خپل نبي په صحبت پخپل قومي ژبې کې چې له هغه سره دوی بېحده مينه، محبت او صميميت درلوده؛ پر قرآني علومو پوره علم او پوهه حاصله کړه، بيا دوی په مشرق او مغرب کې خواره شول، او په روم او فارس کې د «کلمة الله» د اعلاء لپاره خواره شول.

په دغه وخت کې الله تعالی په خپل قدرت په عجمي اقوامو کې داسې زبردست جوش او د الله تعالی د کلام د معرفت داعيه او په عربي ژبه کې د پوهې او مهارت حاصلولو داسې شوق پيدا فرمايلی وو؛ چې له لږ مدت څخه وروسته دوی د قرآني علومو په شرح او تبيين کې له خپلو معاصرو عربو څخه ږپر پرمخ لاړل.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا أَنْ أَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ۙ وَذَكِّرْهُمْ بِأَيَّامِ اللَّهِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿٥﴾

او خامخا په تحقيق لږلی وو مونږ موسی په ښکاره معجزو څمونږ چې راوباسه قوم خپل له تيارو (د جهالت او ضلالت) رڼا (د علم او يقين) ته، او ور ياد کړه (پند ور کړه دوی ته) په (هغو سختو) ورځو (حوادثو او غورو نعمتونو) د الله، بېشکه په دغو (يادولو د سختيو او نعمتونو) کې خامخا دلائل د قدرت دي لپاره د هر ږپر صبر کوونکي (په زحمتونو) ږپر شکر کوونکي (په نعمتونو).

تفسير: يعنې د هغو معجزاتو له ورکولو سره مونږ موسی عليه السلام لږلی وو چې د (تسعه وو آيتونو) په نامه سره مشهورې دي، يا به د (تورات) آيات مراد وي.

«او وريادکړه او پند ورکړه دوی ته په هغو سختو ورځو د الله»، يعنې د هغو ورځو واقعات يې ورپه ياد کړه کله چې پر دوی باندې د شدائدو او مصائبو غرونه ولوږدل، بيا نو الله تعالی دوی ته له هغه څخه نجات ورکړ، او خپله مهرباني يې پرې وفرمايله، ځکه چې د دواړو قسمو حالاتو له اورږدلو څخه صابرو او شاکرو بندګانو ته عبرت حاصليږي.

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ أَنجَاكُم مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ وَيُذَبِّحُونَ أَبْنَاءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ ۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَاءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٦﴾

او (ياد کړه) هغه وخت چې وويل موسی قوم خپل ته: ياد کړئ نعمت د الله (چې احسان يې کړی دی) پر تاسې کله چې يې خلاص کړئ تاسې له تابعانو د فرعون څخه، چې رسولو به يې تاسې ته بد سخت عذاب او ذبح کول به يې واړه ځامن ستاسې، او ژوندۍ به يې پرېښودې لپاره د خدمت لونيې ښځې ستاسې، او په دې (حلالولو يا خلاصولو يا ټولو کې نصرت مصيبت يا نعمت يا) ابتلا وه له جانبه د رب ستاسې ږپره لويه.

تفسير: مثلاً له تاسې څخه يې مريان جوړ کړي وو، او پر تاسې يې سخت سخت بيګارونه اجرا کول، او ذبح کول وژل به يې واړه ځامن ستاسې، او ژوندۍ به يې پرېښودې لپاره د خدمت لونې ښځې ستاسې، او په دې حلالولو يا خلاصولو يا ټولو کې مدد مصيبت نعمت يا ابتلاء وه له جانبه د رب ستاسې ډېره لويه؛ چې تاسې يې د مريتوب له ذلته وويستلئ، او د خپلواکۍ ازادۍ له دولت څخه يې مستفيد کړئ.

د «بلا» اصلي معنى ازموينه ده، په زحمت او راحت په دواړو حالتونو کې د بندګانو ازموينه په صبر او شکر کې ده، ﴿وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً﴾ (١٧ جزء د الأنبيا (٣٥) آيت (٣) رکوع.

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ﴿٧﴾

او ياد کړه هغه وخت چې خبر درکړ تاسې ته رب ستاسې په دې چې قسم دى که چېرې شکر وويستلو تاسې (په تېرو نعمتونو احسانونو ځما)؛ نو خامخا زيات به کړم تاسې ته نعمت، او قسم دى که بې بېقدري ناشکري وکړه تاسې (د نعمتونو احسانونو ځما)؛ نو بېشکه عذاب ځما خامخا ډېر سخت دى.

تفسير: دا د موسى عليه السلام مقوله ده، يعنې اى بني اسرائيلو ! هغه وخت هم په ياد ولرئ چې ستاسې رب اعلان وفرمايه: «که ځما احسان مو ومنلو، او په ژبه او په زړه مو ځما د نعمتونو شکر ادا کړ؛ نو خامخا روحاني او جسماني - اخروي او دنيوي هر قسم نعمتونه به هم ستاسې په برخه کړم، او قسم دى که بېقدري او ناشکري وکړئ تاسې د نعمت ځما؛ نو بېشکه عذاب ځما خامخا ډېر سخت دى»، يعنې اى بني اسرائيلو ! د کفران په صورت دغه موجوده نعمت هم در څخه سلب کولى شي، او د ناشکرۍ مزيده سزا به بېله درکړل شي.

وَقَالَ مُوسَىٰ إِن تَكْفُرُوا أَنتُمْ وَمَن فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا فَإِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٨﴾

او وويل موسى (اى قومه ځما !) که کافران (منکران) شئ (بېقدري وکړئ) تاسې او هر هغه څوک چې په ځمکه کې دي (له انسانانو او پيريانو) ټول؛ نو بېشکه الله خامخا غني دى (بې پروا له هر څيز او له هر چا) تل ښه ستايلى شوى (ثنا ويلى شوى).

تفسير: يعنې اى بني اسرائيلو ! د کفران ضرر به هم تاسې ته رسيږي، او د پاک الله هيڅ شى نه کميږي، او هغه ستاسې شکر کولو ته له سره حاجت نه لري، که څوک يې شکر اداء کړي که يې اداء نه کړي؛ په هر حال د ده حميدۍ او محمودۍ ته هيڅ تنقيص نه واقع کيږي، «صحيح مسلم شريف» کې يو حديث قدسي نقل کړى دى چې حاصل يې داسې دى: «اى ځما بندګانو ! که تاسې ګرد پخواني او وروستني جن او انس ټول د يوه پرهېزګار سړي په نمونه شئ؛ نو له هغه ځنې هيڅ ځما په مملکت کې څه نه زياتيږي، او که تاسې پخواني او وروستني جن او انس سره ټول يو ځاى شئ، او په فرض محال د يوه بدترين انسان په شان شئ (العياذ بالله)؛ نو له هغه ځنې د يوې ذرې په اندازې ځما په مملکت کې هيڅ نقصان نه واقع کيږي.

أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأُ الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ ۛ وَالَّذِينَ مِن بَعْدِهِمْ ۚ لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللَّهُ ۚ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ وَقَالُوا إِنَّا كَفَرْنَا بِمَا أُرْسِلْتُم بِهِ وَإِنَّا لَفِي شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَنَا إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٩﴾ قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِي اللَّهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ

قَالُوٓا۟ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأْتُونَا بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿۱۰﴾

آیا نه دی راغلی تاسې ته خبر د هغو کسانو چې (تېر شوي دي) پخوا له تاسې نه؛ چې قوم د نوح او عاد (چې قوم د هود دی) او ثمود (چې قوم د صالح دی) او هغه کسان چې وو پس له دوی څخه، چې نه دي خبر پر دوی (هیڅوک) مګر یو الله، چې راوړي وو دوی ته رسولانو د دوی ښکاره دلائل؛ نو رد کړل (وګرځول دغو کفارو) لاسونه خپل په خولو خپلو (یا په خولو د انبیاوو کې چې ونه غږیږي) او وویل دوی چې: بېشکه مونږ کافران شوي یو په هغه چې لېږلي شوي یئ تاسې په هغه سره، او بېشکه مونږ خامخا په شبهه شک کې یو له هغه (توحید) نه چې بولئ تاسې مونږ هغه ته (په داسې شک) چې واقع کوونکی دی (مونږ لره په اضطراب او خلجان کې). وویل رسولانو د دوی: آیا په (وجود د) الله کې شبهه شک دی (هسې الله چې) پیدا کوونکی د اسمانونو او د ځمکې دی، بولي تاسې (لره الله په ژبه ځمونږ ایمان ته) لپاره د دې چې وبخښي تاسې ته بعضې له ګناهونو ستاسې (چې حقوق الله دي)، او چې مهلت درکړي تاسې ته (له عذابه) تر وخته معیّنه پورې (چې وخت د نزعې دی)، وویل (کفارو) چې: نه یئ تاسې مګر آدمیان پشان ځمونږ (نو ولې به تاسې انبیاء ګڼو) اراده لرئ تاسې د دې چې منع کړئ واړوئ مونږ (په دعوی د نبوت سره) له هغو شیانو څخه چې وو چې عبادت به کولو پلرونو ځمونږ، نو راوړئ مونږ ته کوم برهان ښکاره (حجّت واضح په صحت د دې دعوی او استحقاق د فضل خپل).

تفسیر: دا د موسی علیه السلام د کلام تتمه ده ـ یا هغه یې پرینښی ـ حق تعالی دغه محمدي امت ته خطاب فرمایي، په هر حال په دې کې یې ښوولي دي چې هغه بې شماره اقوام چې پخوا له دې نه تېر شوي دي، د هغوی تفصیلي اطلاع او احوال بې له الله تعالی څخه هیڅا ته معلوم نه دي، البته هغه څو قومونه چې د عربو په نزد ډېر مشهور وو؛ د هغو نومونه یې واخیستل، او بقیه یې په ﴿وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِمْ﴾ کې درج کړي، تنبیه فرمایي چې: د دغو اقوامو څه حال او حشر شوی دی؟ آیا د هغو احوال تاسې ته نه دي رسیدلي؟ د تعجّب ځای دی چې پخوا له دې نه دومره اقوام سپېره او تباه شوي دي، او د دوی له حال څخه تر اوسه پورې تاسې ته عبرت نه دی حاصل شوی.

تنبیه: ابن عباس رضي الله عنه ﴿لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا ٱللَّهُ﴾ ولوست او ویې ویل: «کذب النسابون» یعنې د انسابو د پوره معرفت دعوی کوونکي دروغجنان دي، عروه بن الزبیر فرمایي چې: مونږ هیڅوک داسې نه دي موندلي چې له معدّ بن عدنان څخه پورته په حقیقي طور د نسب حال او احوال راوښیي، والله أعلم.

﴿جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ﴾ الآیه ـ «چې راوړي وو دوی ته رسولانو د دوی ښکاره دلائل د قدرت؛ نو رد کړل وګرځول دغو کفّارو لاسونه خپل په خولو خپلو، یا په خولو د انبیاوو کې چې چپ شئ نور څه مه وایئ»، یعنې کفّار له ډېره غیظه او غضبه خپلې ګوتې چیچي، په بل ځای کې یې فرمایلي دي: ﴿عَضُّوا۟ عَلَيْكُمُ ٱلْأَنَامِلَ﴾ یا د انبیاوو د خبرو له اورېدلو څخه له نهایت تعجبه خپل لاسونه پر خوله ږدي، خپل لاسونه د خپلو خولو په لوري وړي او اشارې کوي چې بس دی چپ اوسئ ! یا ځمونږ له دې ژبې څخه ماسوا له دې ځوابه د بل کوم شي د اورېدلو توقع مه کوئ، چې وروسته له دې نه بیان راغی، یا د نبي الله د خبرو د اورېدلو په وخت کې خندل، او کله د خندا د مخې نیولو لامله (له وجې) پر خپلو خولو به یې خپل لاسونه کېښودل.

په هر حال هره معنی چې واخیسته شي، د ګردو (ټولو) حاصل همدغه دی؛ چې دوی د الله تعالی د نعمت ناقدري وکړه، او دانبیاوو علیهم السلام دعوت یې قبول نه کړ، بلکه له هغو سره یې په ډېرې بېقدرۍ او سپین سترګی او ګستاخي سره معامله وکړه.

﴿أَفِي اللَّهِ شَكٌّ﴾ يعني د الله تعالى وُجود او وحدانيت خو داسې يو شى نه دى چې په هغه كې د شكّ او شبهې لرې څه ځاى او ځنجايش وي، پخپله انساني فطرت د رب العزّت پر وجود شاهد دى، د علويّاتو او سفليّاتو عجيب او غريب نظام شهادت وركوي، چې د دغه مشين پرزې د وجود په قالب او سانچه كې اچوونكى او بيا يې جوړوونكى او په نهايت محكمې او منظمې طريقې سره چلوونكى قوت او قدرت ښايي چې ډېر قوي او نهايت زبردست وي، چې په كامل حكمت او اختيار سره د عالم مشين پخپل واك او قابو كې ساتي، نو ځكه خورا ډېرو لويو لويو مشركانو ته په يو نه په بل رنګ د دغې خبرې له اعترافه چاره نشته، هغه لوى الله چې اسمانونه او ځمكې او نورې كړې يې پيدا كړي دي، هغه الله تعالى له ځكردو وړوكو بتانو او معبودانو څخه په ډېره لوړه (اوچته) مرتبه كې دى.

د انبياوو عليهم السلام تعليم هم دغه دى كله چې د انساني فطرت د يوه عليم او حكيم او قادر او توانا منبع الكمالاتو الله تعالى د مجمع الصفاتو ذات پته او سراغ او نښه لګولې او پيدا كړې ده؛ نو بيا ولې د اوهامو او ظنونو په څټو او دلدلو كې خپل ځان غورځوئ او خښوئ؟ او دغه ساده فطرت او ښكاره دليل څخه لويې قيصې او معمّى جوړوئ؟.

انساني ضمير، او د بشريت وجدان شهادت اداء كوي؛ چې د يوه قادر مطلق او عالم الكل الله تعالى له موجوديت سره د كومې تيرې (ځكې) يا ونې يا انساني تصوير يا فلكي ستوري يا د بل كوم مخلوق په الوهيت كې شريكول د فطرت د غږ بندولو يا خرابولو سره مرادف دي، نو آيا د الله پاك په ذات او صفاتو كې معاذ الله د څه نقصان احساس شوى دى؛ چې د هغه تلافي د ده مخلوق د معبودانو په جمعيت سره كوي.

﴿قَالُوٓا۟ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا﴾ يعني ښه ! د الله تعالى بحث پرېږدئ ! او د خپل ځان په نسبت ووايئ ! آيا تاسې د اسمان پرښته يئ؟ يا علاوه پر نوع البشر له نورو كومو نوعو څخه يئ؟ ! كله چې بل هيڅ شى نه يئ، او فقط ځمونږ په شان بنيادم يئ؛ نو بيا په څه ډول مونږ ستاسې پر دغو خبرو يقين وكړو، ستاسې غوښتنه به داسې وي چې مونږ خپل قديمي مذهب څخه مخ واړوو او ستاسې تابعان شو؛ نو زړونه مو جمع كړئ چې دغه به له سره نه كيږي، كه تاسې د خپل امتياز ثابتول غواړئ، او په دغه مقصد كې خپله كاميابي او برى غواړئ؛ نو داسې كوم يو ښكاره سند او الهي فرمان راوښيئ چې د هغه په مقابل كې مونږ هرومرو خپلې غاړې كېږدو، او دغه كار هلته امكان لري چې تاسې ځمونږ له غوښتنې سره سم معجزې او ښكاره نښې راوښيئ.

قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَٰنٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۖ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾

وويل دوى ته رسولانو د دوى چې (هو !) نه يو مونږ مګر آدميان يو په شان ستاسې، وليكن الله احسان كوي (په ايمان او نبوّت سره) پر هر چا چې اراده وفرمايي (د احسان د هغوى) له بندګانو خپلو (لكه چې پر مونږ يې فرمايلى دى)، او نه ښايي مونږ ته (او نه توانيږو) دا چې راوړو مونږ تاسې ته كوم برهان (سند او معجزه) مګر په اذن (حكم) د الله سره، او خاص پر الله نو توكل دې وكړي مؤمنان.

تفسير: يعني ستاسې دغه خبرې ځكردې داسې دي چې نه مونږ پرښتي يو او نه بل كوم مخلوق، بلكه په نفس د بشريت كې مونږ ستاسې په شان يو، ليكن د بشر د نوعې په افرادو كې د احوالو او مدارجو په اعتبار آيا د ځمكې او د اسمان توپير (فرق) او اعتبار نشته؟ آخر دا خو تاسې هم ګورئ چې الله تعالى د جسماني ـ دماغي ـ اخلاقي او معاشي حالاتو په اعتبار ځينو انسانانو ته پر ځينو نورو څومره فضيلت او عظمت وربخښلى دى، بيا كه داسې وويلى شي چې پاك الله خپل ځينې بندګان د دوى د فطري قابليت او اعلى ملكاتو په سبب د روحاني كمال او باطني قرب هغه لوړ مقام ته رسولي دي چې هغه ته د «نبوّت» يا «رسالت» منصب وايي؛ نو په دغه كې څه اشكال او استبعاد دى.

په هر حال د نبوّت له دعوی څخه دغه نه لازميږي چې د خپل ځان په نسبت د ماسوا البشر د بل کوم نوعيت دعوی کوونکي يو، هو ! دومره قدر ثابتيږي چې الله تعالی له خپلو بندګانو څخه ځينو ته پر ځينو داسې خصوصي احسان فرمايي چې هغه په نورو کې نه وي (لکه نبوت ـ رسالت ـ ولايت ـ علميت ـ درايت ـ کفايت ـ اهليت).

پاتې شو ستاسې د غوښتنې پوره کول؛ نو دغه شی د الله تعالی په اختيار کې دی، ځمونږ په قبضه او واک (اختيار) کې نشته، او نه ځمونږ تصديق په دغه پورې عقلاً مربوط دی، پاک الله سم له خپل حکمت سره د هر هغه سند او معجزې اراده چې وفرمايي تاسو ته به يې درښيي.

وَمَا لَنَآ أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى ٱللَّهِ وَقَدْ هَدَىٰنَا سُبُلَنَا ۚ وَلَنَصْبِرَنَّ عَلَىٰ مَآ ءَاذَيْتُمُونَا ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ﴿١٢﴾

او څه عذر دی مونږ ته په دې کې چې توکل به نه کوو پر الله، حال دا چې ښوولي يې دي مونږ ته لارې (د دين) ځمونږ، او قسم دی چې صبر به وکړو خامخا په ضرر رسولو ستاسې مونږ لره، او خاص پر الله نو تل دې توکل وکړي متوکلان.

تفسير: يعنې حق تعالی مونږ ته د توحيد جام راڅښولی دی، او د حقيقي بري او کاميابي لاره يې رابنوولې ده، نو بيا څرنګه ممکن دي چې مونږ به پرې توکل او اعتماد نه کوو، تاسې هومره ضرر او ايذاء چې راورسوئ؛ د پاک الله په فضل سره ځمونږ په توکل کې هيڅ فرق نه لويږي، د متوکلينو دغه کار نه دی چې د سختيو په ليدلو سره د توکل او استقامت له لارې څخه واوړي يا بې هيلې شي.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُم مِّنْ أَرْضِنَآ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِى مِلَّتِنَا ۖ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٣﴾ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ ٱلْأَرْضَ مِنۢ بَعْدِهِمْ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِى وَخَافَ وَعِيدِ ﴿١٤﴾

او وويل هغو کسانو چې کافران شوي وو رسولانو خپلو ته چې خامخا وبه باسو مونږ تاسې هرومرو له ځمکې خپلې يا به خامخا وګرځئ تاسې هرومرو په دين ځمونږ کې، پس وحي وکړه دوی ته رب د دوی چې هرومرو هلاک به کړو مونږ ظالمان. او خامخا به واوسوو مونږ تاسې په ځمکه د دوې کې وروسته (د هلاک) د دوی، دغه (اهلاک او اسکان حق دی) لپاره د هغه چا چې ويريږي له دربدلو په مخ ځما کې او ويريږي له وعدې (د عذاب ځما).

تفسير: يعنې اوس خپل د توکل او استقامت خبرې پربږدئ ! او خپله زياته لويي او مشرتيا مه ښکاره کوئ ! بس او بس له دوو خبرو څخه يوه خبره ضرور ځانونو ته غوره کړئ ! يا تاسې له بعثته څخه پخوا په شان پټه خوله او قرار له مونږ سره وګډ او مخلوط اوسئ، او هغه کسان مو چې پخوا له دې نه له مونږ څنې بې لارې کړي دي؛ هغوی دې ببرته ځمونږ په همدغه پخواني دين کې راشي !، که نه تاسې ټول ځمونږ له ملکه د باندې لاړ شئ ! او مونږ مو له دې وطنه نورو ملکونو ته شړو.

پس وحيه وکړه دوی ته رب د دوی داسې چې هرومرو هلاک به کړو مونږ ظالمان، يعنې تاسې به څنګه دوی له دې ملکه وباسئ، مونږ به همدغه ظالمان د تل لپاره داسې فنا کړو؛ چې بيا له سره ببرته نشي راتلی، او د دوی په ځای کې به تاسې او ستاسې نور مخلص وفاداران ودانوو.

وګورئ چې د مکې معظمې کفّارو نبي کريم صلی الله عليه وسلم او نور مسلمانان له هغه ځايه وويستل، چې همدغه اخراج بالآخر د دوی د اخراج سبب او وسيله وګرځېده، او هلته د اسلام او د مسلمانانو دائمي تسلط قائم او د

کفر او کفارو هیڅ یو اثر او نښه نشوه پاتې، او همدغه یې داسې وفرمایله چې: او خامخا به اوسوو مونږ تاسې په ځمکه د دوی کې وروسته له اهلاکه د دوی.

وَاسْتَفْتَحُوا وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴿١٥﴾ مِّن وَرَائِهِ جَهَنَّمُ وَيُسْقَىٰ مِن مَّاءٍ صَدِيدٍ ﴿١٦﴾ يَتَجَرَّعُهُ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُ
وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ۖ وَمِن وَرَائِهِ عَذَابٌ غَلِيظٌ ﴿١٧﴾

او فیصله (فتح او نصرت) وغوښت (انبیاوو؛ نو منصور او مأمون شول سره له مؤمنانو) او نامراده زیانکاره ناامیده شو هر یو متکبر سرکښ (ضدي عناد کوونکی له حق سره). چې وړاندې د ده دوزخ دی (پس له مرګه او په کې سوځي) او ورڅښولی به شي له اوبو (چې زوې وینې سره ګډې وي، او د دوزخیانو له ګډوو بهیږي). چې غړپ غړپ به یې (په تکلیف سره) څښي او نه به وي نژدې چې تېر کړي هغه (زوې په اسانۍ سره له ډېر تریخوالي او بدبویی) او رابه شي ده ته (سختي د) مرګ له هر طرف (او له هر ځایه) حال دا چې نه به وي دی مړ کېدونکی (چې په ارام شي) او له شا او په مخ د ده کې به عذاب ډېر سخت وي.

تفسیر: یعنې انبیاوو له الله تعالی څخه مدد وغوښت، او د فیصلې طالبان شول، لکه چې نوح علیه السلام ویلي وو: ﴿فَافْتَحْ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَنَجِّنِي﴾ او لوط علیه السلام وویل ﴿رَبِّ نَجِّنِي وَأَهْلِي مِمَّا يَعْمَلُونَ﴾ او شعیب علیه السلام عرض کړی وو ﴿رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ﴾ او موسی علیه السلام دعاء فرمایلې وه: ﴿رَبَّنَا إِنَّكَ آتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَأَهُ﴾ الآیه ـ او کفارو کله چې ولیدل چې له دومره طویل مدت راهیسې مونږ له عذابه وېرول کیږو؛ لیکن د هغه هیڅ یوه نښه او آثار نه څرګندیږي (ښکاره کیږي) نو په تمسخر او استهزاء سره یې په داسې ویناوو سره خوله وپرانیسته ﴿وَقَالُوا رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ الْحِسَابِ﴾ (۲۳ جزء د ص سورت (۱۶) آیت ۲ رکوع) او ﴿وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ﴾ (۹ جزء ۳۲ آیت د الأنفال سورت ۲ رکوع)، دغه خو د قریشو مقولې وې.

﴿مِّن وَرَائِهِ جَهَنَّمُ وَيُسْقَىٰ مِن مَّاءٍ صَدِيدٍ﴾ یعنې دغه خو د دې دنیا عذاب وو، وروسته له دې د دوزخ مدهشه او موحشه منظره ور په مخه ده، چې دوی په کې غورځول کیږي او سوځي چې د تږي کېدلو په شدت کې زوې یا د زوو په شان اوبه پر دغو کفّارو وڅښول شي.

﴿يَتَجَرَّعُهُ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُ﴾ یعنې پخپلې خوښۍ سره یې کله څښلی شي، په حدیث کې دي چې پرښتې یې د اوسپنې په ګرزونو سره په سر وهي او په زوره یې پرې څښي، او په خوله کې یې ورتویوي، څه مهال (وخت) چې دوی یې خپلې خولې ته ورنژدې کوي؛ نو د هغه د حرارت له شدّته د دوی د دماغو او د ماغزو تر پوټکي پورې هم ببل شي او لاندې ځوړند شي، کله چې هغه د دوی خولې ته ورسیږي؛ نو د دوی له ستوني (حلق) څخه تیریږي او هلته بند پاتې کیږي، په ډېر مصیبت او ربړ (تکلیف) سره یې یو یو ګوټ ـ یو یو غړپ، له ستوني (حلق) څخه تیروي، کله چې هغه د دوی نس کې لویږي؛ نو سم له لاسه د دوی کلمې توتې توتې غوڅې شي، او د باندې تږي لویږي: ﴿وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ﴾ (۲۶ جزء د محمد سورت (۱۵) آیت (۲) رکوع)، ﴿وَإِن يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ﴾ (۱۵ جزء د الکهف سورت (۲۹) آیت (۴) رکوع) أعاذنا الله منها وسائر المؤمنین.

مَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ أَعْمَالُهُمْ كَرَمَادٍ اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيحُ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍ ۖ لَّا يَقْدِرُونَ مِمَّا كَسَبُوا عَلَىٰ
شَيْءٍ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ ﴿١٨﴾

مثال (حال ـ صفت) د هغو کسانو چې کافران شوي دي په رب خپل باندې؛ عملونه د دوی په شان (د ډېرې د) ایرې دي، چې سخت را الوځي پرې باد په هغه ورځ چې سخت او ښوروونکی

وي باد يې، نه به قادريږي دوی د هغو عملونو چې کړي دي دوی په هيڅ شي، دا (ګمان د نېکی د دوی) همدغه ګمراهي ده لرې (له حقه).

تفسير: ځينو کفّارو ته به داسې خيال پيدا کېده چې مونږ خو په دنيا کې ډېر ښه ښه کارونه د صدقاتو او خيراتونو په سلسله کړي دي، ځمونږ ښه اخلاق په خلقو کې مشهور دي، له ډېرو خلقو سره مو په مصيبت او تکليف کې مرستې (مدد) او کومکونه کړي دي، او په يو نه يو صورت سره مو د الله تعالی عبادت هم کړی دی، نو آيا دغه ګرد کړي او په نورو کولي او راکړه او ورکړه مو هلته په کار نه راځي؟.

د هغه ځواب يې په دغه تمثيل سره ورکړ، يعنې هر هغه څوک چې په پاک الله صحيح ايمان نه لري، او يواځې د فرضي او وهمي معبودانو عبادت کوي؛ د هغه ګرد اعمال محض يو بې روحه او بې وزنه شي ته ورته دی، او هغه به په محشر کې داسې الوزي او له منځه ورک کيږي؛ لکه چې د لوی باد او سيلۍ په وخت کې د ايرو بځرکي الوځي، نو هلته به کفّار د نېک عمل څخه بيخي تش لاس وي، حال دا چې داسې يوه موقع به وي چې هلته د نېکو عملونه ضرورت له هر شي څخه زيات وي، الله اکبر ! دغه به څرنګه د حسرت او افسوس وخت وي.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٩﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ ﴿٢٠﴾

آيا نه وينې (نه پوهيږې ای ليدونکيه !) چې بېشکه الله پيدا کړي دي اسمانونه او ځمکه په حقه سره (لکه چې اراده يې وه)، که اراده وفرمايي (الله د هلاکولو ستاسې)؛ نو بو به ځي تاسې (په مړينه سره) او رابه ولي نور خلق نوي (يعنې پيدا به يې کړي). او نه دی دغه (اهلاک ستاسې او پيدا کول د نورو) په الله باندې سخت او مشکل (بلکه آسان دي).

تفسير: يعنې ښايي؛ کفارو ته داسې خيال پيدا شي، کله چې مونږ په خاورو کې سره ګډ او خاوره شو، نو بيا به بل ژوندون څرنګه وي؟ د قيامت او عذاب او ثواب خبرې ګردې (ټولې) افسانې دي، نو د دغه خيال په ترديد کې دا ورښيي؛ هغه الله ته چې اسمان او ځمکه يې پخپل کامل قدرت او حکمت سره پيدا کړي دي، ستاسې بيا ژوندي کول - يا د بل کوم مخلوق درول ودانول ستاسې په ځای کې هيڅ سخت او مشکل نه دي، که د اسمان او ځمکې د محکم نظام له ليدلو څخه دغه يقين در حاصليږي چې د هغو پيدا کوونکی او قائم ساتونکی کوم داسې ذات شته چې صانع او حکيم دی لکه چې د «بالحق» په لفظ سره يې تنبيه فرمايلې ده.

نو څرنګه ويلی شئ چې هغه به أشرف المخلوقات (انسان) محض يو بې نتيجې شی پيدا کړی وي؟ او د ده د تخليق او ايجاد سره به بل کوم عظيم الشان مقصد متعلق نه وي؟ له دغه ژوندون څخه وروسته به بل ژوندون وي، چې په هغه سره د آدم د پيدايښت عظيم مقصد په اکمله او اتمه طريقه سره ښکاره شي.

وَبَرَزُوا لِلَّهِ جَمِيعًا فَقَالَ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنْتُمْ مُغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ ۚ قَالُوا لَوْ هَدَانَا اللَّهُ لَهَدَيْنَاكُمْ ۖ سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِنْ مَحِيصٍ ﴿٢١﴾ وَقَالَ الشَّيْطَانُ لَمَّا قُضِيَ الْأَمْرُ إِنَّ اللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدْتُكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ ۖ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِنْ سُلْطَانٍ إِلَّا أَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي ۖ فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوا أَنْفُسَكُمْ ۖ مَا أَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَا أَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ ۖ إِنِّي كَفَرْتُ بِمَا أَشْرَكْتُمُونِ مِنْ قَبْلُ ۗ إِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٢﴾

او ظاهر به شي (خلائق له قبرونو د) دوی الله ته ټول، نو وبه وايي کمزوران (د کفّارو) هغو کسانو ته چې کبر لويي به يې کوله (په کفر کې) چې بېشکه مونږ وو تاسې ته (په دنيا کې) تابعان؛ نو آيا اوس يئ تاسې دفع کوونکي له مونږ څخه له (دغه اخروي) عذابه د الله څخه څه څيز؟، نو وبه وايي (دغه مشرکان): که هدايت کړی وی (لاره ښوولې) وی مونږ ته الله؛ نو خامخا هدايت (لارښوونه) به کړې وه مونږ تاسې ته، برابر دی (اوس) پر مونږ چې آيا شور، فرياد وکړو؟ يا که صبر وکړو، نشته مونږ ته هيڅ ځای د خلاصي. او وبه وايي شيطان کله چې فيصله شي امر (د حساب په قيامت کې): بېشکه چې الله وعده کړې وه له تاسې سره (په دنيا کې) وعده د حق (چې بعث او جحيم او نعيم دی)، او وعده کړې وه ما له تاسې سره، بيا نو خلاف مې وکړله تاسې سره (په وعده کې لکه چې اوس درښکاره شو)، او نه وو ماته پر تاسې هيڅ حکومت (او غلبه) مګر دا قدر چې وبللی ما تاسې (ګمراهۍ ته)؛ نو قبول کړ تاسې (په تشو غلولو سره) دعوت ځما، نو مه ملامتوئ تاسو ما، او ملامت کړئ نفسونه (ځانونه) خپل، نه يم زه اوس فرياد رس (له عذابه خلاصوونکی) ستاسې، او نه يئ تاسې فرياد رس (له عذابه خلاصوونکي) ځما، بېشکه زه کافر (منکر ببزاره يم) له هغه اشراکه ستاسې ما لره (له الله سره په طاعت کې) پخوا (له دې نه په دنيا کې)، (نو فرمايي الله) بېشکه چې ظالمان شته دوی ته عذاب ډېر دردناک.

تفسير: يعنې له ګردو ځنې په يوه لويه عدليه محکمه کې به ګرد خلائق کله چې له خپلو قبورو څخه ژوندي پاڅولی کيږي او راوړاندې کيږي، او په خورا ښکاره صورت په عرصات کې د الله تعالی په حضور کې ګرد سره ټوليږي، نو وبه وايي د کفارو کمزوران هغو کسانو ته چې کبر يې کولو چې: بېشکه مونږ وو تاسې لره تابعان؛ نو آيا پس يئ تاسې دفع کوونکي له مونږ څخه له عذابه د الله د څه څيز؟.

يعنې اتباع به خپلو متبوعينو ته داسې وايي چې: «په دنيا کې تاسې له خپلو ځانونو څخه لويان او مشران جوړ کړي وو، نو ځکه مونږ ستاسې ډېر اطاعت او متابعت وکړ، نو نن د دغه مصيبت په وخت کې مونږ ته څه ګټه او فائده راورسوئ ! آيا داسې کېدی شي چې د دغه الله تعالی د عذاب کومه برخه له مونږ څخه لرې يا سپکه کړئ؟».

دغه وينا به وروسته د دوزخ له ورتګه وکړي، يا به د حشر په ميدان کې ووايي.

ابن کثير (رحمه الله تعالی) اول احتمال تـه ترجيح ورکړې ده، لقوله تعالی: ﴿وَإِذْ يَتَحَآجُّونَ فِي النَّارِ فَيَقُولُ الضُّعَفَٰٓؤُا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوٓا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا﴾ الآيه ـ وغير ذلك من الآيات، و الله تعالی أعلم.

﴿وَقَالَ الشَّيْطَٰنُ﴾ الآيه ـ يعنې له حساب او کتاب څخه وروسته کله چې داسې فيصله صادره شي چې جنتيان په جنت کې او دوزخيان دوزخ ته لاړ شي؛ نو هلته پخوا له دې نه چې دوزخيان په دوزخ کې ولويږي، دوزخيان به پر لعين ابليس باندې الزام اړوي، چې ای مردوده ! تا په دنيا کې مونږ تېر ايستو، او له لارې څخه دې بې لارې کړو، او په دغه مصيبت کې دې ککړ کړو، نو اوس ځمونږ څه تدبير او چاره هم وکړه !، مثلا د سپارش او نورو څه انتظام وکړه ! چې د الله تعالی له دغه عذابه ژغورنه (نجات) مو په برخه شي.

دلته لعين ابليس دوی ته به داسې يوه وينا وکړي چې د هغې حاصل دا دی: «بېشکه الله تعالی د صادق القولو انبياوو په ژبه او واسطه د ثواب او عقاب او د دوزخ او جنت په متعلق داسې رښتيا وعدې فرمايلي وې چې د هغوی صداقت په دنيا کې د دلائلو او براهينو له مخې ثابت وو، او نن هم په مشاهده سره ظاهر دی، ما د هغه په مقابل کې تاسې ته د دروغو خبرې او غلطې وعدې کړې وې، چې د هغو کذب او دروغ هم په دنيا کې په ادنی فکر او تأمل سره واضح او ښکاره کېدی شو، او دلته خو ستاسې تر سترګو لاندې د هغې بدې نتيجې راڅرګندې (ښکاره) دي، له ما سره نه

د حجّت او د برهان قوت وو، او نه داسې بل کوم طاقت او قوت وو چې په زور او زياتي سره مې تاسې داسې يوې وړوکې خبرې ته اړ (محتاج) او مجبور کولی شوی، بلا شبه ما تاسې ته د بدیٰ تحریک کړی دی، او تاسې ته مې د خپلې ډلې په لوري د راتلو بلنه کړې ده، تاسې پخپله منډه او ډېرې خوښۍ ځما په لوري راوځغلېدئ.

د انصاف خبره خو دا ده: چې له ما څخه پر خپلو نفسونو باندې زيات الزام او ملامتي واړوئ ! ځما د اغواوو، غولولو، لمسولو او تيرايستلو جرم پر خپل ځای پاتې دی، ليکن ځما پر مجرمولو تاسې کله پاک او بري کېدی شئ ! نن تاسې ته مدد رسونه چېرې ـ پخپله له تاسې څخه مدد اخيستل هم امکان نه لري، مونږ او تاسې دواړو د خپلو خپلو جرائمو سره برابر په سزا کې نيولی کيږي، هيڅ يو به د بل په داد او فرياد نه شي رسېدی، تاسې له خپله حماقته په دنيا کې زه د الله تعالی شريک ودرولم، يعنې ځينې مستقيماً د شيطان په عبادت لګيا شول، او ډېر کسان د شيطان په خبرو داسې وغولېدل، او د ده د احکامو انقياد يې په داسې ډول (طريقه) سره وکړو؛ چې هغسې د الله تعالی د احکامو اطاعت او انقياد به يې کولو، په هر حال زه له هغه شرک او کفر چې تاسې پخپل جهالت او غباوت سره کړی دی؛ بيخي منکر او بېزاره يم».

د دغو مکالماتو له نقل کولو څخه مقصود دا دی چې خلق د دغه اضطراب او پرېشانۍ له تصوّره او اندېښنې د شياطين الجن والانس له اتباع او پيروی څخه مخ وګرځوي.

وَأُدْخِلَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ ۖ تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ ﴿٢٣﴾

او داخل به کړی شي هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه په هسې) جنتونو کې چې بهيږي لاندې له (مانيو او ونو د) هغو ويالې په دې حال چې همېشه به وي دوی په دغو (جنتونو کې، داخل به کړی شي دوی په حکم او) په اذن د رب د دوی، پېشکشي د دوی (به په وخت د ملاقات کې) په دغه جنت کې لفظ د سلام وي.

تفسير: دغه يې د مقابلې په ډول سره د کفّارو له سزا څخه وروسته د مؤمنينو ښه انجام او خاتمه وفرمايله، شاه صاحب ليکي چې: «په دنيا کې «سلام» دعاء ده د سلامتيا د غوښتلو لپاره، او په آخرت کې سلام ويل مبارکي ده پر سلامتی موندلو».

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ ﴿٢٤﴾ تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا ۗ وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٥﴾ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ اجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ الْأَرْضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٍ ﴿٢٦﴾

آيا وينې ته (ای بنده) څرنګه بيانوي الله يو مثال کلمه پاکيزه (چې لا إله إلا الله ده) په شان د هغې ونې پاکيزې (د خُرما ده) چې بيخ د دې خبس وي (په ځمکه کې) او څانګې يې (پورته) په (جانب د) اسمان (تللې) وي. چې ورکوي (دا ونه) خوراک (مېوه) خپله هر مقرّر وخت په اذن (حکم) د رب خپل، او بيانوي الله مثالونه لپاره د خلقو لپاره د دې چې دوی پند پرې واخلي. او مثال د کلمې خبيثې (چې کلمه د کفر ده) په شان د هغې ونې خبيثې (بدبويې بدخوندې لکه د مرغونې د بوټې) دی، چې ايستلی شوی وي له سر د ځمکې، چې نه وي ده ته هيڅ قدر قرار (ثبات استحکام).

تفسير: يعني وګورئ او غور وکړئ څرنګه باموقعه او معنی پيدا کوونکی مثال دی، عقلمن هومره چې په ده کې غور وکړي؛ هغومره په سلهاوو دقائق مسلسلاً ترې پيدا کيږي، په پاکيزه خبرې کې د توحيد کلمه ـ د الله تعالی د معرفت خبرې ـ ايمان او ايمانيّات ـ قرآن ـ حمد او ثنا ـ تهليل ـ تسبيح او رښتيا ويل ګرد سره داخل دي.

په اکثرو رواياتو او آثارو کې دلته د پاکيزه ونې مصداق د خُرما (کجُورې) ونه درولې شوې ده، ګواکې نورې پاکيزه ونې هم ترې لاندې داخلې کېدی شي.

﴿أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ﴾ يعني د هغې بېخ د ځمکې په ژوره (ښکته) کې غوړېدلې وي، چې په ډېر زورور او سخت باد او سيلی سره هم هغه له بېخه نه ايستلی کيږي، او د هغې څانګې اسمان ته رسېدلې دي، يعني څانګې يې ډېر لوړې او د ځمکې له کثافتونو څخه لرې وي.

﴿تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا﴾ «چې ورکوي دغه ونه مېوې خپلې هر وخت کې چې ورته مقرر کړی وي الله په اذن او حکم د رب خپل سره»، چې اول «بسر» او په وسط کې «رطب» او آخر کې «تمر» ورکوي، او «تمر» يې خو هر کله موجود وي، يعني هيڅ يو فصل له مېوو او ثمراتو څخه تش نه وي پاتې، يا يې فرض کړئ چې په دولسو مياشتو کې ګهيځ (سحر) او مابنام به پرې تازه مېوې ځوړندې وي.

په ﴿كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ﴾ کې د کفر کلمه ـ دروغ خبرې ـ او هر هغه خبره چې د الله تعالی له مرضي څخه مخالفه وي؛ داخله ده، او على الأكثره له دې نه حنظل (مرغونی) مرادوي، ګواکې د لفظ په عموم کې هره خرابه ونه شامله کېدی شي، يعني لکه چې هيڅ بېخ ونه لري، او په لږ اشاره سره له ځمکې څخه وځي، ګواکې د هغه کم قوّتي او ناپايداري يې ښکاره کړې ده.

د دواړو مثالونو حاصل داسې شو، چې ګواکې د توحيد او ايمان دعوی پخه او رښتيا ده، چې د هغه دلائل نهايت صاف او صحيح او مضبوط دي، او د دې لامله چې د فطرت سره موافقه ده؛ د هغې ريښې د زړونو ژورو ته راښکته کيږي، او د صالحه وو اعمالو څانګې عين تر اسمانه پورې لګيږي.

الغرض د حق او صداقت او توحيد او معرفت همېشه بهارونه او پسرلي ورځ په ورځ وده کوي، او لويږي، او په ډېرې پايداری سره لوړيږي، او بالعکس د دروغو خبرو او شرک او کفر او د باطني دعوی بېخ هيڅ نه وي، د باد په لږ خوځولو سره له بېخه وځي، د ناحقې خبرې په اثبات کې هومره زور چې ولګولی شي؛ ليکن د انساني ضمير او فطرت د مخالفت لامله (له وجې) د هغه بېخ د زړونو تر بېخه نشي رسېدی، د لږ څه فکر کولو په اثر غلط راښکاري، نو ځکه مشهوره ده چې دروغ پښې نه لري، يعني د رښتيا په شان پر خپلو پښو نشي تلی، او نه له هغو څخه په زړونو کې څه نور پيدا کيږي.

يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ۖ وَيُضِلُّ اللَّهُ الظَّالِمِينَ ۚ وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ ﴿٢٧﴾

مضبوطوي الله هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی په خبرې ثابتې سره په ژوندون د دنيا (په وخت د فتنې او مرګ) کې او په آخرت کې (يعني په قبر کې) او ښويوي الله ظالمان (له دغې ثابتې خبرې او هېروي يې ترې په دنيا او عقبا کې)، او کوي الله هر هغه څه چې اراده وفرمايي (د کولو يې له اهداء د مؤمنانو او اضلال د مشرکانو).

تفسير: يعني حق تعالی د توحيد او ايمان په خبرو (چې د هغو مضبوطي او پايداري په پخواني مثال کې ظاهره کړی شوی دی)، مؤمنان په دنيا او آخرت کې مضبوط او ثابت قدم وي، پاتې شو د قبر منزل چې د دنيا او آخرت په

منځ کې «برزخ» دی؛ هغه په دنیا یا په آخرت کې ګډ شمېرلی شوی، لکه چې له اسلافو څخه دغه دواړه اقوال منقول دي، غرض دا دی چې مؤمنین د دنیا له ژوند څخه نیولې تر محشر پورې د همدغې طیبې کلمې په برکت مضبوط او ثابت قدم پاتې کیږي، په دنیا کې له هومره حوادثو او آفاتو سره چې مخامخ شي، او هر رنګه سخت امتحان او ازموینه چې ترې واخیسته شي؛ په قبر کې د نکیرینو سوال او ځواب وشي، د محشر هولناکه منظره سره له دې چې فکر او هوش وړونکې وي؛ په هره موقع کې همدغه د توحید کلمه د ده د مېړانې، ثبات، او استقامت ذریعه وګرځي.

﴿وَيُضِلُّ اللَّهُ الظَّالِمِينَ﴾ او ښویوي اړوي الله ظالمان مشرکان له دغې ثابتې خبرې او هېروي یې ترې په دنیا او عُقبی کې، له ظالمانو څخه مراد دلته کفّار او مشرکین دي، دوی په دنیا کې هم وښویېدل، او په آخرت کې هم ښوییږي، او له سره د حقیقي بري او کامیابي مخه به ونه ویني.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَتَ اللَّهِ كُفْرًا وَأَحَلُّوا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ ﴿٢٨﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا وَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿٢٩﴾
وَجَعَلُوا لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلُّوا عَن سَبِيلِهِ ۗ قُلْ تَمَتَّعُوا فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى النَّارِ ﴿٣٠﴾

آیا نه یې خبر نه ګورې ته هغو کسانو (د کفارو) ته چې بدل کړی یې دی نعمت د الله په ناشکرۍ سره (په اختیار د کفر) او راښکته کړی دی دوی قوم خپل په دار د هلاکت کې، چې دوزخ دی، داخل به شي دوی په هغه کې، او بد ځای د قرار او هستوګنې دی. او ګرځولي وو دوی الله ته شریکان لپاره د دې چې ګمراه کړي (واړوي خلق) له لارې (د توحید) د الله، ووایه (ای محمده ! دوی ته) چې نفعه واخلئ تاسې (په شهواتو سره په دنیا کې) نو ببشکه بهرته ورتله ستاسې اور د دوزخ ته دي.

تفسیر: له دې نه د کفارو او مشرکینو مشران او سرداران مراد دي، خصوصًا د قریشو رئیسان چې د دوی په لاس کې په هغه وخت کې د عربو واک او اختیار وو، یعنې الله تعالی پر دوی څومره انعام او احسان فرمایلی دی، د دوی د هدایت لپاره یې محمد صلی الله علیه وسلم لېږلی دی، قرآن یې نازل کړی دی، د بیت الحرام مجاوران یې ګرځولي دي، د عربو مشرتیا یې ورته روزي کړې ده، دوی د پاک الله د دغو نعمتونو او احسانونو مقابله په دې سره وکړه؛ چې د الله تعالی پر ناشکرۍ یې ملاوې وترلې، او د ده خبرې یې دروغ وبللې، د ده له رسول سره وجنګېدل، په آخر کې یې خپل قوم له خپلو ځانونو سره یو ځای بیولی د هلاکت په کنده کې ولوېدل.

﴿وَجَعَلُوا لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلُّوا عَن سَبِيلِهِ﴾ یعنې که دوی د الله تعالی له نعمتونو او احساناتو څخه متأثر شوي وی، او د حقیقي منعم په شکر ګذارۍ او اطاعت شعارۍ کې لګیا وی؛ نو ډېر به ښه وو، مګر دوی داسې ونه کړل، بلکه بالعکس بغاوت یې غوره کړ، او د پاک الله په مقابل کې یې نور داسې شیان ودرول؛ چې پر هغو یې د الوهیت صفات ویشلي وو، او هغه عبادت یې چې واحد الله ته مخصوص وو؛ په مختلفو عنوانونو سره د دوی لپاره ثابت کړ، څو په دغې سلسلې کې له خپلو ځانونو سره نور خلق هم بې لارې کړي، او ګمراهي ته یې واړوي، او د خپل سیادت په لومه (دام) کې یې راګیر کړي.

قُل لِّعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا يُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً مِّن قَبْلِ
أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلَالٌ ﴿٣١﴾

ووایه (ای محمده) هغو بندګانو ځما ته چې ایمان یې راوړی دی چې سم دې دروي (ادا کړي) لمونځ، او ورکړه دې کوي ځینې له هغه ماله چې ورکړی دی مونږ دوی ته په پټه (که مستحب

وو)، او په ښکاره (که فرض وو يا واجب)، پخوا له راتلو د هغې ورځې چې نشته سودا پلورل (خرڅول) او پېرودل (اخستل) په هغې کې او نه دوستي.

تفسير: د کفّارو د احوالو له ذکر کولو څخه وروسته د مخلصينو مؤمنينو د تنبيه لپاره يې داسې وفرمايل څو دوی په پوره ډول سره ويښ شي، او د عُبوديت په وظائفو کې يوه ذره هم فرق او توپير (تفاوت) رانه ولي، په زړه او ځان سره د خالق عبادت او د مخلوق خدمت وکړي، چې هغه ډېر ښه عبادت دی، لمونځونه دې د هغو له حقوقو او حدودو د رعايت سره په کامل خشوع او خضوع سره تل ادا کړي، د پاک الله له ورکړې څخه يوه برخه خفيه يا علانيه پر مستحقينو ولګوي، الغرض د هغو کفّارو په مقابل کې چې په کفر او شرک او د نعمتونو په ناشُکرۍ کې ډوب تللي دي، مؤمنانو ته لازم دي چې په خپلو ځانونو او مالونو الله تعالى په عبادت او شکر ايستلو سره خپله مستعدي څرګنده (ښکاره) کړي.

﴿مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلَالٌ﴾ يعنې لمونځ او في سبيل الله انفاق او نور حسنات په هغه ورځ به د دوی په کار ورځي، بيع او شراء او تش د دوستۍ او خپلوۍ تعلقات له سره د دوی په کار نه ورځي، نه به هغه څوک نېک عمل پېرودی (اخستلی) شي، او نه به داسې کوم دوست او خپلوان پيدا کيږي، چې بې له ايمانه او صالح عمله تش د دوستۍ د تعلقاتو لامله د ده نجات ذمه پر خپل ځان واخلي.

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِیَ فِی الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ ﴿۳۲﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآىِٕبَیْنِ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ ﴿۳۳﴾ وَاٰتٰىكُمْ مِّنْ كُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ ۚ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ۚ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ ﴿۳۴﴾

الله هغه ذات دی چې پيدا کړی يې دي اسمانونه او ځمکه او نازلې کړي يې دي (له طرفه) د اسمانه اوبه، نو رايستلې يې دي په دې اوبو سره له هر قسمه مېوو څخه رزق (روزي) تاسې ته، او مسخّر (تابع) کړي يې دي تاسې ته ببړۍ لپاره د دې چې ګرځي په سيند کې په امر (حکم) د دغه (الله) سره، او مسخّر کړې (لګولې) يې دي تاسې ته ويالې، او مسخّر کړي (په کار لګولې) يې دي لپاره د منافعو ستاسې لمر او سپوږمۍ په دې حال چې ګرځېدونکي) دي سم له دستور سره برابر، او په کار کې يې لګولي دي تاسې ته شپه او ورځ. او درکړي يې دي تاسې ته ځينې له هر هغه څيز چې سوال کړی تاسې د هغه (شي سم له مصلحته)، او که وشمېرئ تاسې (ټول انواع او ګرد افراد د) نعمت د الله؛ نو وبـه نه شمېرلی شئ تاسې دا نعمتونه د الله (تـر آخره پورې)، بېشکه انسان خامخا لوی ظالم ډېر ناشکره دی.

تفسير: يعنې الله تعالى د خپل قدرت او حکمت په کمال سره په اوبو کې داسې يو قوت پيدا کړی دی، چې د ونو او کښتونو (فصلونو) او د نورو د ودې او نشوونما او حاصل ورکولو سبب ګرځي، او د همغو په ذريعه ځمونږ د هغو له مېوو او حاصلاتو څخه مستفيد کيږو.

﴿وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِیَ فِی الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ۚ﴾ يعنې د سمندر په خوفناکو څپو او موجونو کې په يوې وړوکې ببړۍ باندې سپر ښرئ، او له کومه ځايه تر کومه ځايه پورې رسېرئ، او په څه اندازه سره تجارتي او غير تجارتي فوائد ترې حاصلوئ، دغه خو د الله تعالى په قدرت او حکم سره دی؛ چې د سمندر په لويو لويو څپو او هسکو هسکو موږو او غټو غټو شپېرو کې يوه وړوکې (د پياز د پوټکي په شان) ببړۍ يا جهاز نه يواځې ساتي، بلکه له يوې لويې وچې څخه يې بلې لويې وچې ته هم بيايي.

﴿وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَرَ﴾ يعني په ويالو، خوړونو، سيندونو، ويالو، لښتيو او نورو کې د اوبو راتلل او لرې ځايونو ته رسېدل ـ اګر که د بېړۍ په شان ستاسې د فکر او ارادې تابع نه ده؛ خو بيا هم ستاسې په کارونو کې بوخت او لګيا دي.

همداسې لمر، سپوږمۍ او ستوري هم د يوه معين نظام او ضابطې سره سمه د خپل ټاکلي دود (رواج) او دستور سره موافق تماماً تر قيامه د قيامت پورې پخپلو حرکاتو او ورسپارليو شويو خدماتو کې مصروف دي، او له سره نه ستومانه او نه ستړي کيږي.

يا شپه او ورځ يوه په بله پسې په همغه ټاکلي عادت سره سم او تل راځي او ځي، دغه ګرد شيان اګر که په دې معنى ستاسې په تصرف او اختيار کې نشته؛ چې کله مو او چېرې مو چې زړه وغواړي د هغوى د قدرتي حرکاتو او تأثيراتو مخه ونيسئ، خو بيا هم تاسې داسې ډېر تصرّفات او تدابير په کار اچولي شئ چې د هغو تأثيراتو څخه بېشماره فوائد حاصل کړئ او لکه چې کوئ ـ د انساني تصرّفاتو او تدابيرو څخه ماسوا دوى بالذات هم تل تر تله ځمونږ د دې دنيا په يو نه يو خدمت کې مشغول او لګيا دي، مونږ او تاسې په هوسايى (آسانى) سره ژوندون کوو، او دوى سرګردانه ځمونږ په منفعت او خدمت کې مداومت کوي.

﴿وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ﴾ يعني د الله تعالى نعمتونه دومره ډېر دي، چې که تاسې ګرد سره يو ځاى شئ، او په اجمالي ډول سره د هغو شمېرلو سره پيل (شروع) وکړئ؛ نو ګرد به سره ستړي او ستومانه کېږئ.

﴿إِنَّ الْإِنْسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ﴾ يعني د انسان په جنس کې ډېره زياته بې انصافي او بې شکري او بېقدري شته، چې سره د دومره بېشماره احساناتو له ليدلو بيا هم د حقيقي منعم حق نه پېژني، او شکر يې نه اداء کوي.

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَٰذَا الْبَلَدَ آمِنًا وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَنْ نَعْبُدَ الْأَصْنَامَ ﴿٣٥﴾

او (ياد کړه) هغه وخت چې وويل ابراهيم: اى ربه ځما ! وګرځوه دا ښار (د مکې) امن والا، او لرې وساته ما او ځامن ځما له دې نه چې عبادت به کوو د بُتانو.

تفسير: يعني د قُريشو هغو مشرانو چې د دوى د کُفران او شرک او کفر بيان پاس په ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَتَ اللَّهِ﴾ الآيه ـ کې شوى وو؛ هغوى ته د ابراهيم عليه السلام قصه ور په يادوي، او تنبيه ورکوي چې تاسې د هغه د اولاديت لامله د «کعبة الله» او لوى حرم مجاوران شوي يئ، هغه د دې کعبې اساس خاص پر توحيد ايښى وو، د همده د دعاوو په اثر الله جل جلاله دغه د مکې معظمې ښار ودان کړ، او په دغو کلکو پرښو (ګټو) او شګلنو ځمکو کې د ظاهري او باطني نعمتونه امبارونه يې جوړ کړل، ابراهيم عليه السلام له دنيا ځنې په داسې حال کې لاړ چې داسې دعاوې او وصيتونه يې کول، چې د ده اولاده د شرک طريقه اختيار نه کړي، اوس تاسې ته فکر کول او شرمېدل په کار دي، چې تر کومه ځاى پورې مو د ده د وصيتونو رعايت کړى دى؟ يا د ده له دعاء ځخه مو برخه اخيستې ده، او تر کومه حده پورې مو د الله تعالى پر احساناتو شکر ايستلى دى.

﴿رَبِّ اجْعَلْ هَٰذَا الْبَلَدَ آمِنًا﴾ الآيه ـ يعني مکه معظمه «حرم آمن» وګرځوي لکه چې الله تعالى مأمونه هم وګرځوله، او هم زه او هم ځما اولاده د تل لپاره د بُت پرستى ځخه وژغورې (محفوظ کړې)، او تړې مو لرې وساتې، غالباً دلته به له اولاده ځنې خاص صُلبي اولاد مراد وي، نو ځکه د دوى په صلبي اولاد کې دغه مرض رانغى، او که عام ذريات تړې مراد وي، نو ويلى کيږي چې دغه دعاء د ځينو په حق کې نه ده قبوله شوې.

سره له دې چې ابراهيم عليه السلام معصوم رسول وو، مګر د دعاء له آدابو ځخه ده؛ چې له نورو ځنې پخوا سړى خپل ځان ته دعا وکړي، دا راز (قسم) دعاوې چې له انبياوو ځخه منقولې دي؛ په هغو کې دغې خبرې ته هم اشاره ده چې د انبياوو عصمت هم د دوى له لورې نه دى پيدا شوى، بلکه د الله تعالى له حفاظته او صيانته موجود شوى دى، نو ځکه دوى تل د همغه په دربار کې التجاء کوي چې هغه د دوى د عصمت او (تلطّفا) ضامن او کفيل شوى دى.

تنبيه: حافظ عماد الدين ابن كثير (رحمه الله تعالى) په نزد ابراهيم عليه السلام دغه دعاوې د معظمې مكې د ودانۍ او د كعبې شريفې د تعمير څخه وروسته كړي دي، په (اول جزء البقره په (١٢٦) تر (١٢٩) آياتونو او (١٥) ركوع) كې د كومو دعاوو چې ذكر شوى دى؛ هغه يې د كعبې شريفې د بناء په وخت د اسماعيل عليه السلام په معيّت فرمايلي دي، او دغه دعاوې يې ډېره موده وروسته په سپين ږيرتيا كې كړي دي.

رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ ۚ فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي ۖ وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٦﴾ رَبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ ۙ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ ﴿٣٧﴾

ای ربه ځما ! بېشكه دغو (تيرو (ګټو) بُتانو) لغزولي دي ډېر له خلقو (چې سبب د ګمراهۍ د دوى شوى دى) نو هر چا چې متابعت وكړ ځما؛ نو بېشكه هغه له (أهل ملت) ځما دى، او هر چا چې نافرماني وكړه ځما نو بېشكه چې ته يې بښونكى (د خطيّاتو) ډېر رحم كوونكې يې. ای ربه ځمونږ ! بېشكه چې ما اوسولي دي ځينې له اولاد خپل (چې اسماعيل او اولاد يې دى) په داسې يوه وادي (ناو) كې چې نه دى خاوند د كښت (فصل) په نزد د كوټې ستا چې حرمت (عظمت) والا ده، ای ربه ځمونږه (ومې اوسول دوى دلته) د دې لپاره چې سم ودروي (اداء كړي سره له ټولو حقوقو) لمونځ، نو وګرځوه (مائل كړه) زړونه د ځينو خلقو په مينه (چې راځغلي دوى ته، او رزق روزي وركړه دوى ته له هر قسمه مېوو څخه لپاره د دې چې دوى شُكر وباسي.

تفسير: يعنې هغو كسانو چې د خالص توحيد لاره غوره كړې ده، او ځما خبرې يې منلي دي؛ هغه ځما په ډله كې شامل دي، او هغه كسان چې ځما خبرې يې نه دي منلي، او ځمونږ له لارې څخه بېل شوي دي؛ نو ته دوى ته پخپلې مهربانۍ او بخښنې سره د توبې توفيق وركولى شې، كه ستا لطف او مهرباني وي؛ نو هغه به هم ايمان راوړي، او خپل ځان به د خصوصي رحمت او ابدي نجات مستحق ګرځولى شي، يا دا مطلب چې ته قدرت لرې چې هغه هم په همدغه موجوده حالت كې وبخښې، اګر كه ستا له حكمته د هغه وقوع ونشي.

تنبيه: د «المائدة» د سورت په آخر كې د ابراهيم خليل الله عليه السلام د دې قول او د مسيح عليه السلام په مقوله كې مو فرق بيان كړى دى؛ هغه دې بيا وكتلى شي !.

﴿رَبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ﴾ الآيه ـ ای ربه ځمونږه ! بېشكه چې ما اوسولي دي او دېره كړي دي ځينې له اولادې خپلې يعنې اسماعيل عليه السلام، ځكه چې بل اولاد يې اسحاق عليه السلام او نور په شام كې وو، د الله تعالى په حكم يې اسماعيل عليه السلام د تي رودلو په وخت كې د ده د والدې (بي بي هاجرې) سره په دغه تور سپېره ډاګ او ډېر ډګر (ميدان) كې پرېښود، او دى ترې لاړ، وروسته له هغه د «جرهم» د قبيلې څه خلق هلته ورسېدل، ځكه چې الله تعالى د اسماعيل عليه السلام د تندې او د بي بي هاجرې رضي الله عنها د تلوسې او منډې له امله د پرېښتې په ذريعه هلته د «زمزم» چينه بهولې ده، نو د «جرهم» كوچيانو چې دغه اوبه وليدې، هلته ښكته شول، او د بي بي هاجرې رضي الله عنها په اجازه همغلته مسكون شول.

كله چې اسماعيل عليه السلام لوى شو؛ نو په همدغې قبيلې كې يې واده وشو، په دې ډول چېرې چې نن ورځ مكه معظّمه ده؛ يو كلى ودان شو، ابراهيم عليه السلام به هم كله كله له «شام» څخه دلته تشريف راوړ، او د دې او د دې ښار هستېدونكو ته به يې داسې دعاوې فرمايلې چې: «ای الها ! ما خپل يو ځوى په دغه لامزروعه (بې كرونده) او ډاګ ډېر

میدان کې ستا په حکم ستا معظّم او محترم کور سره نژدې دېره کړی دی، چې دی او د ده نسل ستا او ستا د دې کور حق ادا کړي؛ نو ته پخپل فضل او کرم سره د خلقو زړونه دې لوري ته متوجه کړه، څو دوی دلته راشي، او ستا عبادت وکړي، او د دې ښار رونق زیات شي، او هم د دوی د روزۍ او زړه جمعې لپاره له غیبه داسې سامان ور برابر کړه؛ چې برسېره پر غلو او اوبو چې د ژوندانه له ضروریاتو څخه دي؛ عمده ثمرات او ښې مېوې همدلته په افراط سره پیدا شي، چې خلق د زړه په اطمینان سره ستا په عبادت او شکر ګذرای کې مصروف شي».

پاک الله دغه ګردې دعاوې قبولې کړې، لکه چې تر نن ورځې پورې هر کال په زرګونو او لکونو انسانان له ګرده جهانه هلته سره ټولیږي، او د اعلی قسم میوو او عمده ثمراتو په مکې معظمې کې دومره کثرت او افراط وي؛ چې ښایي د دنیا په کومې بلې برخې کې د هغه ساری او نمونه لږ وي، حال دا چې پخپله په مکه معظمه کې یوه باثمره ونه به نه وي موجوده، له ځینو اسلافو څخه منقول دي چې: ابراهیم علیه السلام پخپله دعا کې ﴿أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ﴾ د «څه خلقو زړونه» فرمایلي وو، که نه ګرد عالم به هغه لوري ته تلل.

رَبَّنَآ إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِي وَمَا نُعْلِنُ ۗ وَمَا يَخْفَىٰ عَلَى اللَّهِ مِن شَيْءٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ ﴿٣٨﴾

ای ربه ځمونږ ! بېشکه چې تاته معلوم دي هغه چې پټوو یې مونږه، او په هغه چې ښکاره کوو یې، او نه دي پټ پر الله باندې هیڅ څیز (نه) په ځمکه کې (له سفلیاتو نه) او نه په اسمان کې (له علویّاتو نه).

تفسیر: یعنې په ځمکه او اسمان کې هیڅ له تا څخه پټ نه دي، نو بیا ځمونږ ظاهر او باطن له تا ځنې څرنګه پټ او مخفي پاتې کېدی شي؟ داسې چې فرمایلي یې دي: «هغه چې پټوو یې مونږ او هغه چې ښکاره کوو یې» په دغه کې د مفسرانو څو اقوال دي: لیکن د تخصیص هیڅ وجه نه ده، الفاظ عام دی، چې ګردو ښکاره وو او پټو شیانو ته شامل دي.

ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى ٱلْكِبَرِ إِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ ۚ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٩﴾

(ټول د کمال صفت او) ثنا ده (هغه) الله لره چې رابخښلی یې دی ماته سره له زوړوالي اسماعیل او اسحاق، بېشکه چې رب ځما خامخا ښه اورېدونکی (قبلوونکی) د دعاء دی.

تفسیر: یعنې په زوړتوب کې اسحاق علیه السلام د «ساري» او اسماعیل علیه السلام د «هاجرې» له ګېډې څخه په غیر متوقعه ډول سره دې راعنایت فرمایلي دي، لکه چې د اولاد په متعلق ځما د ﴿رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّٰلِحِينَ﴾ دعا دې واورېده، دغه دعاء هم راقبوله کړه.

رَبِّ ٱجْعَلْنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِي ۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿٤٠﴾

ای ربه ځما ! وګرځوې ما همېشه قائموونکی (اداء کوونکی) د لمانځه (سره له ټولو حقوقو یې) او ځنې له اولادې ځما (هم کلک کړې پر لمانځه)، ای ربه ځمونږ ! او قبوله کړې دعاء ځما.

رَبَّنَا ٱغْفِرْ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ ٱلْحِسَابُ ﴿٤١﴾

ای ربه ځمونږ ! بخښنه وکړې ماته او مور او پلار ځما ته او مؤمنانو ته په هغه ورځ (د قیامت کې) چې قائمیږي حساب.

تفسير: دغه دعاء يې غالباً د خپل پلار د مړ کېدلو څخه پخوا چې د کفر په حالت مړ شو، او وروسته دی پرې خبر شو؛ فرمايلې ده، نو مطلب به يې داسې وي چې: هغه ته د اسلام هدايت ورکړې !، او د قيامت په ورځ يې د مغفرت وړ (لايق) او مستحق وګرځوې !، او که د مړ کېدلو څخه يې وروسته دعا فرمايلې وي؛ نو ښايي تر هغه وخته پورې به دی نه وو مطلع کړی شوی، چې کفّار د مغفرت وړ (لايق) نه دي.

وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ ۚ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ
الْأَبْصَارُ ﴿٤٢﴾ مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ ۖ وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَاءٌ ﴿٤٣﴾

او مه کوه ګمان (ای انسانه) په الله چې غافل (بې خبره) دی له هغو کارونو چې کوي يې ظالمان ! بېشکه همدا خبره ده چې وروستي کوي دوی هغې ورځې ته چې خلاصې به پاتې وي (له ډېر وېرې) په هغه کې سترګې. چې منډې وهونکې به وي دا (مخلوقات) چې جګ (اوچت) نيوونکي به وي د سرونو خپلو (په طرف د بلونکي محشر کې)، بېرته به نه ګرځي دوی ته رپول د سترګو د دوی، او زړونه د دوی به تش وي (له عقله او فهمه له ډېرې وېرې).

تفسير: يوه رکوع پخوا د ډېرو عظيمه وو نعماوو د ذکر کولو په منځ کې يې فرمايلي وو: ﴿إِنَّ الْإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ﴾ «بېشکه انسان خامخا لوی ظالم او ډېر ناشکره دی»، وروسته له هغه د ابراهيم عليه السلام قصه يې واوروله، او د مکې معظمې کفّارو ته ځينې خصوصي نعمتونه ور په ياد کړه ـ او د دوی د ظلم او شرک په لوري يې اشاره وفرمايله؛ په دغه رکوع کې تنبيه فرمايي: که د ظالمانو په تنبيه فرمايلو کې څه ځنډ وشي، نو داسې يې مه ګڼئ چې الله تعالى د دوی له حرکاتو څخه بې خبر دي، په ياد يې ولرئ چې د دوی هيڅ يو وړوکی او لوی کار له الله تعالى څخه پټ نه دی، البته د ده عادت داسې نه دی چې فوراً مجرم ونيسي، او تباه يې کړي، دې ډېرو لويو ظالمانو ته هم مهلت ورکوي، چې يا له خپلو جرائمو څخه لاس واخلي، يا د جرائمو په ارتکاب کې تر دې حده پورې ورسيږي چې له قانوني حيثيته د ده د سزا په مستحق کېدلو کې هيڅ قسم خفاء پاتې نشي.

تنبيه: ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ﴾ خطاب هر هغه انسان ته دی چې داسې يو خيال يې په زړه کې پيدا کېدی شي، او که پاک رسول الله صلى الله عليه وسلم ته خطاب؛ نو د دوی له دې مخاطبې څخه به نورو ته اورول مقصود وي، چې کله يې خپل رسول الله صلى الله عليه وسلم ته داسې وفرمايل چې داسې خيال مه کوه ! حال دا چې داسې يو خيال له سره دوی ته قريب هم نشو راتلى، نو د نورو په حق کې داسې خيال به په څه اندازه واجب الاحتراز وي.

﴿إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ﴾ يعنې د قيامت په ورځ کې له ډېر هول، هيبت او دهشت څخه سترګې به همداسې ړېې بلې او تېغې پېغې راښکاري، او هم داسې بوتې وتلې او پرانيستلې به پاتې وي، يعنې رپولى به يې نشي، او همداسې وازې به خلاصې وي، او هيڅ به يې نشي پټولى.

وَأَنذِرِ النَّاسَ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ الْعَذَابُ فَيَقُولُ الَّذِينَ ظَلَمُوا رَبَّنَا أَخِّرْنَا إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ
دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ ۗ أَوَلَمْ تَكُونُوا أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴿٤٤﴾ وَسَكَنتُمْ فِي مَسَاكِنِ الَّذِينَ
ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْأَمْثَالَ ﴿٤٥﴾

او وېروه (ای رسوله ځما) خلق له هغې ورځې څخه چې را به شي دوی ته عذاب (په قيامت يا د مرګ په وخت کې)؛ نو وبه وايي هغه کسان چې ظلم يې کړی دی (په شرک او تکذيب سره): ای ربه ځمونږ ! وروستي کړه (مهلت راکړه) مونږ ته تر نېټې نزدې پورې

چې قبوله کړو بلنه ستا او متابعت وکړو د رسولانو، (وبه فرمايي الله توبيخاً) آيا نه وئ تاسو چې قسم به کولو تاسې پخوا له دې نه (په دنيا کې) چې نشته تاسې ته هيڅ زول (له دنيا نه آخرت ته په بيا ژوندون سره). او اوسېدلي وئ تاسې په کورونو د هغو کسانو کې چې ظلم يې کړی وو پر ځانونو خپلو (په کفر او معاصيو سره)، او ښکاره شوې ده تاسې ته (دغه خبره) چې څرنګه کار کړی وو مونږ په دوی باندې (د عذابه او اهلاکه) او بيان کړي وو مونږ تاسې ته مثالونه.

تفسير: د (العذاب) څخه يا خو د قيامت ورځ او اخروي عذاب مراد دی، يا د موت وخت او د ده د سکراتو او د روح د قبض شدّت مقصود دی، يا له دنيوي عذاب څخه د هلاک کېدلو ورځ اراده کولی شي.

﴿فَيَقُولُ الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ الآية ـ که دغه وينا په دنيا کې د عذاب يا د موت د شدّت د ليدلو په وخت کې وي؛ نو يې مطلب ظاهر دی، چې اوس څو ورځې نورې هم مونږ ته مهلت راکړه ! مونږ درسره وعده کوو چې وروسته له دې نه خپله رويه او عمل ښه کوو، يعنې د حق دعوت قبلوو، او د انبياوو متابعت اختياروو، کما قال الله تعالى: ﴿حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ * لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ كَلَّا﴾ (۱۸ جزء د «المؤمنون» (۹۹ـ۱۰۰) آيت (۶) رکوع).

او که د دوی دغه مقوله د قيامت په ورځ کې وي؛ نو په دغه صورت کې به د مهلت غوښتلو معنی داسې وي؛ چې مونږ بيا دويم ځلي د لږ څه مدّت لپاره دنيا ته بېرته ولېږه، نو بيا وګوره چې مونږ په څه اندازه خپله وفاداري درښکاره کوو، کما قال الله تعالى: ﴿وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُوا رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ رَبَّنَا أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ﴾ (۲۱ جزء د «السجدة» سورت (۱۲) آيت (۲) رکوع).

وَقَدْ مَكَرُوا مَكْرَهُمْ وَعِندَ اللَّهِ مَكْرُهُمْ وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ ﴿۴۶﴾

او په تحقيق سره کوښښ د مکر او فرېب وکړ دوی د مکر او فرېب خپل حال دا چې الله سره دی مکر د دوی، او نه وو مکر (فرېب) د دوی (داسې لوی) چې له ځايه به بېرته شي له دغه مکره غرونه (له خپله ځايه).

تفسير: يعنې ګردو پخوانيو او وروستنيو ظالمانو خپل مکرونه او فرېبونه چلولي دي، او د انبياوو په مقابل کې د حق د مغلوبولو او لرې کولو هيڅ يو تدبير او سازش دوی نه دی پرېښی، دوی ګرد تدابير، مکر، فرېب او چال د الله تعالى په نزد يو په يو ښکاره او محفوظ دي، او خامخا دوی ته د هغو سزا ورکوي.

﴿وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ﴾ يعنې دوی ډېر زيات مکرونه او فرېبونه کړي دي، او د هغو نتائج يې ليدلي دي، مګر د الله تعالى د چل په مقابل کې هغه ګرد ناکامه او بې نتيجې پاتې دي، آيا دغه مکر د دوی به غرونه له خپلو ځايونو څخه وخوځولی شي؟ يعنې انبياء عليهم السلام او حقه وو شرائع چې له غرونو څخه زيات مضبوط او مستقيم دي؛ د دوی د دغو مکاريو او فرېبونو څخه به لږ څه متأثر او متضرر شي؟ حاشا وکلاّ.

د دې تفسير سره موافق په ﴿وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ﴾ کې «إن» به «نافيه» وي، او د آيت مضمون د ﴿وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا﴾ (۱۵ جزء د بني اسرائيل (۳۷) آيت (۴) رکوع) سره به مشابه وي.

ځينو مفسرينو «إن» شرطيه او «واو» وصليه اخيستی، او د دې آيت مطلب يې داسې بيان کړی دی چې دوی ډېر لوی لوی داسې مکرونه او فرېبونه وکړل، چې د الله تعالى د حفاظت په مقابل کې هيڅ ثابت شو، اګر که د دوی دغه مکرونه او فرېبونه في حدّ ذاته داسې غټ او زبردست وو؛ چې يو ځلي غرونه به يې هم له خپل ځايه بېرته کولی شوی، او له خپله ځايه يې لوړولی شوی.

فَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِ رُسُلَهُ

نو مه کوه ګمان په الله باندې د خلاف کوونکي د وعدې خپلې رسولانو خپلو سره.

تفسير: يعنې هغه وعده چې په ﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا﴾ او په ﴿كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي﴾ او نورو آيتونو کې کړې شوې ده.

إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ ذُو انتِقَامٍ

بېشکه الله ډېر غالب ښه قوي دی (په انفاذ د احکامو) څښتن (خاوند) د انتقام (سخت عذاب له اعداء الله).

تفسير: مجرم له ده څخه نه خلاصېدی شي او نه چېرې تبښتېدلی شي، او نه دی پخپله داسې مجرمان همداسې بې له سزا ورکولو څخه خوشې پرېږدي.

يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ وَبَرَزُوا لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ

(یاد کړه) هغه ورځ چې بدل به کړه شي (په کې) دغه ځمکه په بلې ځمکې سره او اسمانونه به هم بدل کړی شي (په نورو اسمانونو سره)، او را وبه وځي (ټول خلق له قبورو او په ښکاره میدان به ودریږي خاص) الله ته چې یو ښه غالب ډېر قوي دی.

تفسير: په قيامت کې دغه اسمان او ځمکه په دغه موجوده هيئت سره به باقي نه پاتې کيږي، يا خو د دغو ذوات به بدل کړی شي، يا به يواځې په صفاتو کې تغيير کيږي، او له ځينو روايتو څخه معلوميږي چې ښايي څو کرتې دغه تبديل او تغيير ته به وار ورسيږي، والله أعلم.

د ﴿وَبَرَزُوا لِلَّهِ﴾ مطلب په ﴿فَقَالَ الضُّعَفَاءُ﴾ الآية ـ په ذيل کې پخوا ليکلی شوی دی، هلته دې ولوست شي !.

وَتَرَى الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِينَ فِي الْأَصْفَادِ

او وينې به ته دغه ګناهګاران (کافران) په دغه ورځ کې چې تړلي شوي به وي يو له بل سره په ځولنو (غاړکيو او ځنځيرونو) کې.

تفسير: يعنې د يوه يوه نوعيت څو څو تنه مجرمان به په يوه ځنځير کې تړلي کيږي كما قال الله تعالى: ﴿احْشُرُوا الَّذِينَ ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوا يَعْبُدُونَ﴾ (٢٣ جزء د الصافات سورت (٢٢) آيت (٢) رکوع) ﴿وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ﴾ (٣٠ جزء د التكوير (٧) آيت).

سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٍ وَتَغْشَىٰ وُجُوهَهُمُ النَّارُ

قميصونه د دوی له نانزړو به وي، او پټ به کړي مخونه د دوی اور (د دوزخ).

تفسير: په نانزړو کې اور په ډېره جلتي او سرعت اثر کوي، او سخت بدبويي (ډډوزې) ترې خيژي، بيا څرنګه چې د جهنّم اور دی همغسې د هغه ځای نانزړو يا ځرنګه (ګوګړ) هم وګڼئ، بل دا چې مخ د حواسو او مشاعرو ځای، او د انسان په ظاهري اعضاوو کې له ګردو څخه اشرف عضو دی؛ نو ځکه يې په خصوصيت سره ذکر کړ.

لِيَجْزِيَ اللَّهُ كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ۚ إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٥١﴾

(راوځي له قبورو لپاره د دې) چې جزاء ورکړي الله هر يوه نفس ته (جزاء) د هغه عمل چې کړی يي وي، بېشکه الله ډېر ژر دی حساب (د ده).

تفسير: يعني د هغې خبرې پـه مخ راتلل بالکـل يقيني دي، او هغه له سره لرې مه ګڼئ ! كما قال الله تعالى: ﴿اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُّعْرِضُونَ﴾ (١٧ جزء د الأنبياء سورت (١) آيت (١) ركوع).

يا يې دا مطلب: کله چې حساب اخيستل کيږي؛ نو بيا په هغه کې هيڅ ځنډ نه کيږي، د ګردو اولينو او آخرينو، پېريانو او انسانانو د ذرې ذرې عمل حساب کتاب به ډېر ژر کيږي، ځکه چې نه پر الله باندې کوم شی مخفي دی، او نه دی يو شان (شی) له بل شان (شي) څخه مشغولولی شي ﴿مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَاحِدَةٍ﴾ (٢١ جزء د لقمان سورت (٢٨) آيت (٣) ركوع).

هَٰذَا بَلَاغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُوا بِهِ وَلِيَعْلَمُوا أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٥٢﴾

دغه قرآن خبر رسونه ده (کافي ده له جانبه د الله) لپاره د خلقو (چې پند پرې واخلي) او لپاره د دې دی چې وويرولی شي (خلق) په (وعظ) د ده سره، او چې وپوهيږي دوی په دې باندې چې بېشکه خبره همدا ده چې الله معبود واحد دی، او چې پند واخلي (ترې) خاوندان د عقلونو خالصو.

تفسير: يعني د غفلت له خويه ويښ شئ، او له الله څخه وويرېئ، او د ده په آيتونو کې غور وکړئ، چې له هغه څخه د الله تعالى په وحدانيت باندې يقين حاصل شي، او له عقل او فکر څخه کار واخلئ، او پر نصائحو يې عمل وکړئ.

(تمت سورة إبراهيم عليه السلام، ولله الحمد والمنّة)

سُورَةُ الحِجْرِ

«د (حجر) سورت مکي دی، پرته له (۸۷) آیت څخه چې مدني دی، (۹۹) آیتونه او (۶) رکوع لري، په تلاوت کې (۱۵) او په نزول کې (۵۴) سورت دی، وروسته د یوسف علیه السلام له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

الر ۚ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ وَقُرْآنٍ مُّبِينٍ ①

دغه چې وروسته راځي آیاتونه د کتاب دي او د قرآن چې واضح (بیانوونکی د حق او د باطل) دی.

تفسیر: یعنې دا د هغه جامع او عظیم الشأن کتاب آیتونه دي چې د هغه په مقابل کې به کوم بل کتاب د کتاب ویلو وړ (لایق) او مستحق نه وي، او آیتونه دي د هغه قرآنکریم چې واضح بیانوونکي د حق او د باطل دي، او اصول یې نهایت صاف ـ دلائل یې روښان ـ احکام یې معقول ـ د اعجاز وجوه یې واضح ـ او بیانات یې عجیب او فیصله کوونکي دي، نو وروسته له دې نه هر څه چې بیان کېدونکي دي؛ ښایي چې مخاطبین هغه په پوره توجّه سره واوري !.

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ ②

ډېر ځلې به ارزو (تمنّا) کوي هغه کسان چې کافران شوي دي (کله چې ووینې خپل احوال او د مؤمنانو احوال، او جنت او دوزخ) چې کاشکې وی دوی مسلمانان.

تفسیر: که نن منکرینو د قرآن عظیم او د اسلام په شان د الله تعالی د عظیم الشأن نعمتونو قدر ونه کړ؛ لیکن داسې یو وخت راتلونکی دی، چې دغه خلق به پر خپلې محرومۍ ژاړي، او د حسرت لاسونه به سره مښي.

د دغه آیت په تفسیر کې مفسّرینو اختلاف کړی دی، مونږ د (ابن الأنباري) له قوله سره موافق هغه عام اینبی دی، یعنې په دنیا اوآخرت کې په هغو مواقعو کې چې د کافرانو د نامرادۍ او د مسلمانانو د کامیابۍ مناظر او مظاهر وردمخه شي؛ په هره موقع کې کفّار د خپل پاتې کېدلو او ناکامۍ لامله د خپل مسلمان کېدلو تمنّا کوي، او د اسلام له نعمته د محروم پاتې کېدلو حسرت او واوېلا به کوي.

او د انتهایي حسرت او افسوس ځای به هلته وي؛ کله چې پرښتې دوی د ورح قبض کولو لپاره ورمخامخ ودریږي، او د عالم غیب حقائق د دوی تر سترګو لاندې راشي، نو دلته به له ډېره غمه خپلې ګوتې چیچي، او تمنّا کوي؛ کاشکې مونږ هم اسلام قبول کړی وی، څو نن د دغه بعد الموت له عذابه محفوظ پاتې کېدی شوی.

له دې نه لویه یأس غورځوونکې منظره به هغه وي؛ چې د طبراني (رحمه الله) په حدیث کې راغلي دي، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې: «ځما د امّت ډېر سړي د خپلو ګناهونو له سببه په جهنّم کې لویږي، او تر هغه پورې چې د الله تعالی اراده وي، هلته به اوسیږي، نو بیا به مشرکین دوی ته طعنې ورکوي چې ستاسې ایمان او توحید تاسې ته څه فائده درورسوله؟ چې تاسې هم نن ځمونږ په شان په دوزخ کې پراته یئ؟ ! نو د دې پیغور له سببه پاک الله به هیڅ یو موحّد په دوزخ کې نه پرېږدي».

د دې فرمايلو څخه وروسته نبي کريم صلى الله عليه وسلم دغه آيت ولوست: ﴿رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ﴾ ګواکې دغه به آخري موقع وي، چې کفار به د خپل د مسلمانېدلو تمنّا کوي.

ذَرْهُمْ يَأْكُلُوا وَيَتَمَتَّعُوا وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٣﴾

پرېږده دوی (ای محمده) چې خوري او ګټې فائدې اخلي، او مشغول کړي دوی اوږد امید (د ژوندون له ایمان راوړلو)؛ نو ژر ده چې پوه به شي (په عاقبت خپل).

تفسیر: يعنې کله چې هيڅ يو نصيحت پر دوی مؤثر او کارګر نشو؛ نو تاسې زيات له دې نه د دوی په فکر کې مه لوېږئ ! بلکه څو ورځې يې هم داسې خوشې کړئ ! چې د بهائمو (چارپايانو) په شان وخوري، وڅښي، او په زړه پورې مزې وکړي، او خوندور شي، او د مستقبل په نسبت ښه لوی لوی اميدونه وترې، عنقريب به داسې وخت راشي چې دغه ګرد حقائق به هلته څرګند شي، او د پخوانيو او وروستنيو ګرد خوړلي او څښلي به له دوی څخه راوځي، لکه چې څه قدر حقيقت يې په دنيا کې د مجاهدينو په لاس ورښکاره شو، او پوره تکميل به يې په آخرت کې کيږي.

وَمَا أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُومٌ ﴿٤﴾

او نه دی هلاک کړی مونږ له (اهله د) هيڅ کلي مګر خو لپاره (د هلاک) د هغه به يو وخت معلوم وو (ليکلی په لوح محفوظ کې).

تفسیر: يعنې هومره کلي ښارونه او اقوام چې پخوا له دې نه هلاک کړی شوي دي؛ د الله تعالى په علم کې د هر يوه د هلاکت يو معين وخت وو، چې په هغه کې نه هېره او نه تېرواته او نه غفلت او نه د الله تعالى د وعدې تأخير او تعطيل امکان وو، هر کله چې د کوم قوم ميعاد پوره او د دوی د تعذيب وخت ور ورسېد؛ يو ځلي ګرد سره سپېره او تباه شوي دي.

مَا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَأْخِرُونَ ﴿٥﴾

نه ړومبی کيږي هيڅ امت له وخته (د هلاک) خپل، او نه (ترې) وروستی کيږي.

تفسیر: يعنې د مهلکه وو اممو په منځ کې څه تخصيص نشته، بلکه د هر قوم د عروج او زوال يا د موت او حيات لپاره کوم ميعاد او نېټه چې مقرره ده؛ هغه د يوې رېې (ساعت) لپاره هم وړاندې او وروسته کېدی نشي.

وَقَالُوا يَا أَيُّهَا الَّذِي نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ ﴿٦﴾

او ويلې (دغو کفّارو محمد ته) ای هغه سړيه چې نازل کړی شوی دی پر هغه باندې ذکر (قرآن پند په زعم د منکرينو) ! بېشکه ته خامخا لېونی يې.

تفسیر: د مکې معظمې مشرکينو به دغه الفاظ محض د استهزاء او استخفاف په طريقه سره ويل، يعنې «ته له ګردو څخه ور د مخه شوی يې، او د پاک الله له درباره دې قرآن راوړی دی، او نورو ګردو ته احمق او جاهل وايي، بلکه ګردې دنيا ته د وېرې پيغام ورکوې، او له هغه سره داسې دعوی هم کوې، چې بالآخر به زه غالب يم، او يو وخت به داسې راشي چې منکرين به له حسرته او ندامته داسې وايي: کاشکې چې مونږ هم مسلمانان وای، دا د کوم عقل او هوش خبرې دي، دا خو ښکاره لېونتوب دی، او دغه شی چې ته يې لولې او اوروې يې؛ د لېونيانو له چټي (بېکاره) او چپوله (ګډو وډو) له وينا څخه پرته بل شی نه دی (العياذ بالله).

لَوْمَا تَأْتِينَا بِالْمَلَٰٓئِكَةِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّٰدِقِينَ ۝٧

ولې نه راولې مونږ ته ملائکې (لپاره د تعذیب او تکذیب ځمونږ په تصدیق ستا) که یې ته له صادقانو (رښتینو په دغه دعوی کې).

مَا نُنَزِّلُ الْمَلَٰٓئِكَةَ إِلَّا بِالْحَقِّ وَمَا كَانُوٓا۟ إِذًا مُّنظَرِينَ ۝٨

(نو په ځواب کې الله فرمایي چې) نه نازلوو مونږ ملائکې مګر په حق (حکمت یا عذاب) سره او نه به په دغه وخت کې مهلت ورکړی شي (یعنې د ملائکو د نزول په وخت کې به پر دوی هم فې الحال عذاب نازلیږي).

تفسیر: یعنې د قبول کوونکو لپاره اوس ښایسته ډېری ننبې شته، پاتې شو هغه کسان چې د دوی اراده داسې نه وه چې دغه خبره ومني؛ نو هغوی به یې د پرښتو د راتګ په وخت کې هم نه مني، نو بیا د هغو په نزول څه فائده مرتبیږي؟ الله تعالی پرښتې سم له خپله حکمته سره د کوم صحیح غرض لپاره لیږي، همداسې خوشې چتې (بېکاره) د هغوی تماشا ورښوول خلقو ته مقصود نه وي، عادت الله عموماً داسې جریان لري؛ کله چې د کوم قوم بغاوت او سرکښي له خپله حده تېری کوي، او د تفهیم او هدایت ګرد مراحل خاتمه مومي؛ نو د پرښتو فوج د دوی د هلاک لپاره ورلیږي، نو بیا قطعاً هغه قوم ته مهلت نه ورکول کیږي.

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ۝٩

بېشکه مونږ پخپله نازل کړی دی ذکر (قرآن)، او بېشکه چې مونږ د ده خامخا ساتونکي یو (له زیادت، نقصان او نورو نه).

تفسیر: یعنې ستاسې استهزاء او تعنّت، او د قرآن راوړونکي په لوري د جنون نسبت کول پر قرآن عظیم او د قرآن کریم پر حامل قطعاً هیڅ اثر نشي غورځولی، په یاد یې ولرئ چې د دغه قرآن شریف نازلوونکي مونږ یو، او مونږ د دغه قرآن مبارک د هر قسم حفاظت او ساتنې ذمه پر خپله غاړه اخیستې ده، په هغه شان او هیئت سره چې هغه نازل شوی دی، او بې له یوه ادنی تغییر ـ تبدیل ـ تحریف او د فتحې، کسرې، ضمّې او نورو د اړولو او راړولو څخه ګرد عالم ته په کمال صحت رسېدلی دی؛ وروسته له دې نه هم رسیږي، د ژبې د فصاحت او بلاغت او د علم او حکمت دقائق هر څومره چې پرمختګ او ترقي وکړي؛ خو د پاک قرآن په صوري او معنوي اعجازو کې به له سره ضعف او انحطاط نه محسوس کیږي.

ډېر قومونه او سلطنتونه به د قرآن په غږ کښېنولو یا ورکولو کې ډېر زیار (کوښښ) وکړي، لیکن د هغه یو تکی به هم تري نشي لرې کولی، د عظیم الشان قرآن په نسبت د الله تعالی دغه عظیم الشانه وعده په داسې درستې او صفایې او حیرت غورځوونکې طریقې سره تکمیله او پوره شوې ده او پوره کیږي؛ چې د هغه د لیدلو څخه د متعصبو او مغرورو مخالفانو سرونه ښکته شوي دي.

«میور» وایي: «تر هغه ځایه پورې چې مونږ معلومات لرو، په ګرده دنیا کې هم داسې یو کتاب نشته چې د قرآن پشان په دولسو سوو کلونو کې له هر قسمه تحریفه پاک او سپېځلی پاتې وي».

یو بل اروپایي محقق لیکي: «مونږ په هغه یقین سره قرآن بعینه د محمد صلی الله علیه وسلم د خولې وتلي الفاظ ګڼو، لکه چې مسلمانان یې د الله کلام ګڼي»، واقعات دا رابنیي چې پر هره زمانه کې د علماوو داسې یو غفیر جم موجود

وو (چې د هغوی تعداد الله ته معلوم دی) او هغوی د دغه قرآن د علومو او مطالبو او غیر منقضي (نه ختم کېدونکي) عجائبو حفاظت کړی دی، او کاتبانو د رسم الخط ـ او قاریانو د اداء طرز ـ او حافظانو د ده د الفاظو اوعباراتو داسې حفاظت کړی دی؛ چې د نزول له وخته تر اوسه پورې د هغه یوه فتحه یا کسره یا ضمّه یا نور هم نه دي تبدیل شوي، ځینو د قرآن رکوع شمېرلي دي، ځینو د هغه آیاتونه حساب کړي دي، ځینو د هغه د حروفو تعداد رابنولی دی، حتی چې ځینو د هغه یو یو اعراب او یو یو ټکی هم شمېرلی دی.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِي شِيَعِ الْأَوَّلِينَ ﴿١٠﴾ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿١١﴾

او خامخا په تحقیق لیږلي وو مونږ (رسولان) پخوا له تا په ټولیو د پخوانیو (خلقو) کې. او نه به راته هغوی ته هیڅ رسول؛ مګر حال دا چې وو به دوی (د کبره او عناده) چې په هغه پورې به یې مسخرې کولې (لکه چې کوي یې کفّار تا پورې).

تفسیر: په دغه مبارک آیت کې ځمونږ پاک رسول الله صلی الله علیه وعلی آله وصحبه وسلم ته تسلي ورکړی شوې ده، چې تاسې د دوی له دغه تکذیب او استهزاء څخه مه خپه کېږئ ! دغه کومه نوې پېښه او خبره نه ده، د منکرانو عادت تل همداسې وه، کله چې کوم نبي علیه السلام دوی ته راته؛ نو په هغه به یې مسخرې او ټوکې کولې، کله به یې ورته لېونی ویل، کله به یې خپه کولو او چتې (بېکاره) اوږدې او ساده غوښتنې او مطالبې به یې ترې کولې، فرعون د موسی علیه السلام په نسبت ویلي وو: ﴿إِنَّ رَسُولَكُمُ الَّذِي أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ﴾ (۱۹ جزء د الشعراء سورت (۲۷) آیت (۲) رکوع) ﴿فَلَوْلَا أُلْقِيَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِّن ذَهَبٍ أَوْ جَاءَ مَعَهُ الْمَلَائِكَةُ مُقْتَرِنِينَ﴾ (۲۵ جزء د الزخرف سورت (۵۳) آیت (۵) رکوع).

كَذَٰلِكَ نَسْلُكُهُ فِي قُلُوبِ الْمُجْرِمِينَ ﴿١٢﴾

هم داسې (لکه چې ننه ایستلی وو مونږ تمسخر د انبیاوو په زړونو د پخوانیو کفّارو کې)؛ ننه باسو دغه (تمسخر) په زړونو د مجرمینو (کفّارو د زمانې ستاسې کې هم).

تفسیر: هغه خلق چې د جرائمو له ارتکابه مخ نه اړوي، مونږ د دوی په زړونو کې هم داسې د تکذیب او استهزاء عادت ټینګ کړی دی، لکه چې د دوی زړونو ته د غوږونو له لارې د الله تعالی وحي ورځي، نو له هغه سره یو ځای تکذیب هم ورلویږي.

لَا يُؤْمِنُونَ بِهِ وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾

چې ایمان نه راوړي په دغه (نبي او قرآن) او په تحقیق تېره شوې ده طریقه (عادت د الله په اهلاک) د پخوانیو (کفارو چې تکذیب به یې کولو د رسولانو خپلو).

وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا مِّنَ السَّمَاءِ فَظَلُّوا فِيهِ يَعْرُجُونَ ﴿١٤﴾ لَقَالُوا إِنَّمَا سُكِّرَتْ أَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُورُونَ ﴿١٥﴾

او که پرانستلي وی مونږ پر دغو (غوښتونکو د معجزو په مقتضی خپله) کومه دروازه له اسمانه؛ پس تل ګرځېدلي وی دوی په هغه (دروازه) کې چې تل ختل (اسمان ته)؛ نو خامخا به یې ویلي وو (له ډېره عناده) بېشکه همدا خبره ده چې ترلي شوي دي سترګې ځمونږ بلکه مونږ یو قوم یو چې جادو راباندې کړی دی دوی.

تفسير: يعني د پرښتو نزول خو دومره عجيب نه دی، که مونږ د اسمان ورونه خلاص کړو، او پرښتې پرې وخښتوو، او ګرده ورځ دوی په همدې ختلو کې لګيا اوسي؛ خو بيا هم دغه ضد کوونکي او معاند خلق يې نه تسليموي، او په دغه وخت کې به داسې وايي چې: پر مونږ باندې نظر بندي يا جادو شوی دی، ښايي په ابتداء کې يې نظر بندي وکړي، او بيا يې لوی جادو وبولي.

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا وَزَيَّنَّاهَا لِلنَّاظِرِينَ ﴿١٦﴾

او خامخا په تحقيق پيدا کړي دي مونږ په اسمان کې (دولس) برجونه، او ښايسته کړی دی مونږ دغه (اسمان په ستوريو سره) لپاره د کتونکيو (چې عبرت ترې واخلي).

تفسير: ځينې له بروجو څخه دلته لوی لوی ستوري مرادوي، ځينې ترې د شمس او قمر منازل مرادوي، ځينې وايي چې بروج هغه اسماني کلاوې (قلعې) دي، چې په هغو کې د پرښتو ډلې پيرې ورکوي.

﴿وَزَيَّنَّاهَا لِلنَّاظِرِينَ﴾ يعني مونږ پخپل بالغه حکمت او قاهره قدرت اسمان ته په ستوريو سره زينت ورکړی دی، د شپې چې ورېځې او دوړې او غبار او دمه نه وي؛ نو د ستوريو د دغو بېشمارو واښکيو له کتلو څخه انسان په څه اندازه خوښ او محظوظېږي، او د آسمان د ننداره کوونکي په نظر څومره ښايسته او له عظمته ډک معلوميږي، او غور او فکر کوونکي ته په هغه کې د الله تعالى د کامل صنعت، لوی حکمت، مطلقه وحدانيت څومره ښېې، دلائل موندلی کيږي.

وَحَفِظْنَاهَا مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ رَجِيمٍ ﴿١٧﴾ إِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ مُبِينٌ ﴿١٨﴾

او ساتلی دی مونږ دغه (اسمان) له هر شيطانه ويشتلي شوي (په شغلو سره). ليکن هغه (شيطان ختونکي اسمان ته) چې غلا کړي (خبره) اوربدلې شوې (له ملائکو)؛ پس ورپسې شي ستوري ښکاره (روښانه نو ويې سوځوي پخپلې لمبې سره).

تفسير: يعني په اسمانونو کې د شياطينو هيڅ عمل او مداخله نه چليږي، بلکه د محمد صلى الله عليه وسلم د بعثت راهيسې د دوی ګزر او تېرېده هم اسمان ته ممنوع دي، اوس د دوی انتهايي کوښښ په دې کې دی چې يوه شيطاني سلسله قائمه کړي، او اسمان ته ځان نژدې ورسوي، او د ملکوتو له عالمه سره نژدې پر غيبيه وو اخباراتو اطلاعات حاصل کړي، دلته هم د پرښتو پيرې درولې شوي دي، چې کله شياطين داسې کوښښ وکړي؛ نو له پاسه د اور په لمبو وويشتلی شي.

له قرآني نصوصو او د نبوي احاديثو څخه معلوميږي چې د تکويني امورو په نسبت کله چې په اسمانونو کې د کومې فيصلې اعلان کيږي، او پاک الله په دغه سلسله کې پرښتو ته وحي ليږي؛ نو هغه اعلان په يو خاص کيفيت له پاسه تر ښکته پورې درجه په درجه راځي، تر څو چې د دنيا اسمان ته ورسيږي.

د «بخاري شريف» د يوه روايته سره مطابق په «عنان» ورېځو کې پرښتې د هغه مذاکره کوي، او شياطين زيار (کوښښ) کوي، چې د دغو معاملاتو په متعلق غيبي معلومات حاصل کړي.

همغسې چې نن ورځ کوم پيغام د بېسيمو (وائرلس) ټليګرافو په ذريعه لېږلی کيږي، او له هغه څخه خلق په لاره کې د جذب کولو او اخيستلو تدبير کوي؛ نو ناڅاپه له پاسه بم (شهاب ثاقب) پرې لويږي، او د دغو غيبي پيغاماتو غلا کوونکی مجروح يا هلاکوي، په دغه کش او کوک (منډو رامنډو) کې چې په کومه يوه يا نيمه خبره باندې شيطانان پوهه حاصلوي؛ نو دوی د هلاکېدو څخه د مخه په ډېر عجلت او تلوار سره يې نورو شياطينو ته ورسوي، او هغه يې

خپلو نورو انساني دوستانو ته د وررسولو کوښښ کوي، کاهنان د همدغه نيمګړي او ناتمامې خبرې څخه په سلهاوو دروغ له خپله ځانه جوړوي، او په عوامو کې يې د غيبي اخبارو په نامه خوروي، کله چې يوه نيمه خبره يې رښتيا شي؛ نو د دوی معتقدان هغه د دوی د رښتينې په ثبوت کې وروړاندې کوي، او له هغه سلهاوو خبرو څخه چې دروغ ثابتيږي؛ اغماض او تغافل کوي.

وَالْأَرْضَ مَدَدْنَاهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُونٍ ﴿١٩﴾ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ وَمَن لَّسْتُمْ لَهُ بِرَازِقِينَ ﴿٢٠﴾

او ځمکه غځولې (غوړولې) ده مونږ دغه، او ايښوولي مونږ په دغه (ځمکه) کې غرونه (درانه محکم لکه ميخونه)، او زرغون کړي دي مونږ په کې له هر شي اندازه کړی شوي څخه. او پيدا کړي مو دي تاسې ته په دغه (ځمکه) کې (اسباب د) معيشت او هغه شيان چې نه يئ تاسې هغوی ته رزق روزي ورکوونکي (لکه عيال، اولاد، حيوانات او نور، او مونږ يې رازق يو).

وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَائِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴿٢١﴾

او نشته هيڅ څيز مګر په نزد ځمونږ دي خزانې د هغه، او نه نازلوو (نه راليږو) هغه شی مګر په اندازې معلومې سره (نه لږ نه ډېر، سم ځمونږ له حکمت او مصلحت سره).

تفسير: يعنې هر هغه څيز په هر مقدار سره چې الله تعالى اراده وفرمايي؛ پيدا کوي يې، نه څه ربړ (زحمت) او تکليف ورپېښيږي، او نه په کې ستړی کيږي، له يوه لوري کله چې اراده وفرمايي؛ سم د لاسه هغه شيان موجوديږي، ګواکې د ګردو شيانو خزانه د الله تعالى لا محدوده قدرت دی، چې په هغه سره هر څيز سم له حکمته د يوه معين نظام لاندې په ټاکلې اندازې بې له تزييده (زياتي) او تنقيصه (کمي) پرله پسې راوځي او راځي.

وَأَرْسَلْنَا الرِّيَاحَ لَوَاقِحَ فَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَسْقَيْنَاكُمُوهُ وَمَا أَنتُمْ لَهُ بِخَازِنِينَ ﴿٢٢﴾

او راليږلي دي مونږ بادونه بلاربوونکي (ونو او ورېځو لره يا پخپله بلاربه) پس نازله کړې (لېږلې) ده مونږ له اسمان (له ورېځو) څخه اوبه؛ نو وڅښولې مونږ تاسې ته دغه اوبه، او نه يئ تاسې دغو اوبو لره خزانه کوونکي (ساتونکي بلکه مونږ يې درساتو).

تفسير: يعنې اورونکې هواوې درنې درنې ورېځې له اوبو څخه ډکې راولي، چې له هغه ځنې اوبه وريږي، او په ويالو، چينو، کوهيو او نورو کې سره ټوليږي، او ستاسې په کار درځي، که د الله تعالى اراده وی؛ نو هغه به يې د څښلو وړ نه وې پريښې، ليکن ده د خپلې مهربانۍ څومره خوږې او لطيفې اوبه ستاسې د دولسو مياشتو د ضروريانو لپاره د ځمکې په مساماتو کې جمع کړي دي !.

﴿وَمَا أَنتُمْ لَهُ بِخَازِنِينَ﴾ «او نه يئ تاسې دغو اوبو لره خزانه کوونکي» ساتونکي، بلکه مونږ يي درساتو، يعنې نه د پاسني اوريا (باران) خزاين ستاسې په قبضه کې دي، او نه د لاندني چينې او کوهي مخازن ستاسې په اختيار کې دي.

وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ وَنَحْنُ الْوَارِثُونَ ﴿٢٣﴾

او بېشکه مونږ خامخا همدا مونږ ژوندي کول او هم وژل کوو، او همدا مونږ وارث باقي پاتې کيدونکي يو (پس له فنا د عالميانو هم).

تفسير: يعنې دنيا به فناء کيږي، او يو الله تعالى به پخپلو کاملو صفاتو سره باقي پاتې کيږي، شاه صاحب ليکي: «هر څوک مري، او د هغه ګټلي او اموال د پاک الله په لاس کې پاتې کيږي».

وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَأْخِرِينَ ﴿٢٤﴾

او خامخا په تحقيق معلوم دي مونږ ته رومبني له تاسې، او خامخا په تحقيق معلوم دي مونږ ته وروستني خلق.

تفسير: يعنې د پخوانيو او د وروستنيو د هيڅ يوه شخص يا د هغه اعمال ځمونږ له علمي احاطې څخه خارج نه دي، الله تعالى ته لـه ازله د هـر شي د تفصيل علم شته، او سم له هغه سره د دنيا ګردې پېښې او واقعات څرګندېږي (ښکاريږي)، او سم له هغه سره به په آخرت کې له ګردو مخلوقاتو سره عدل او انصاف کوي.

وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ ۚ إِنَّهُ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥﴾

او بېشکه رب ستا همدى به راټولوي دوى (په محشر کې لپاره د جزا)، بېشکه چې دغه (الله) ښه حکمت والا دى، ښه علم والا دى.

تفسير: يعنې هره ذره هم د الله تعالى په علم کې شته، هر کله چې د ده علم او حکمت مقتضي شي؛ نو ګرد به په يوه وخت کې سره ټولوي، او په دغه کې هيڅ اشکال نشته، د قبر په خاورو او د ځناورانو په ګډېدو کې، د سمندرو په ژورو کې، او په فضاء کې او هوا کې، الغرض په هر ځاى کې هر څيز او د هغه هر جزء چې وي؛ هغه پخپل محيط علم او کامله قدرت سره ټولوي.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٦﴾

او خامخا په تحقيق پيدا کړى دى مونږ انسان (آدم) له وچې خټې چې کړنګېدلې (لکه کودړى چې وي) له تورې خټې خوسا کړى شوې.

تفسير: د آفاقيه وو آيتونو او دلائلو څخه وروسته د انفسيه وو آيتونو او دلائلو بيان فرمايي، چې د هغه په ضمن کې ښايي دغه تنبيه هم مقصود وي؛ چې د منبع الکمالات تو هغه ذات چې تاسې يې په داسې يوه عجيبه طريقه سره رومبى ځلې پيدا کړئ؛ نو بيا ستاسې پيدا کول او په يوه ميدان کې مو سره راټولول هغه ته څه اشکال لري؟.

تنبيه: د آدم د پيدا کولو په نسبت دلته يې دوه الفاظ وفرمايل: (۱): ﴿صَلْصَالٍ﴾: يعنې هغه کړنګېدونکې خټه چې د اور د پخېدلو څخه دغه کيفيت په کې پيدا کيږي، چې هم دغه يې په بل ځاى کې ﴿كَالْفَخَّارِ﴾ فرمايلى دى، (۲): ﴿حَمَإٍ مَّسْنُونٍ﴾: يعنې هغه خوسا شوې خټه چې ترې بدبويي خيژي، داسې خيال کيږي چې رومبى به يې له خوسا شوې خټې څخه د (آدم) کالبوت تيار کړى وي، او بيا به يې وچ کړى وي، او بيا به يې داسې پوخ کړى وي، چې ترې کړنګ ختلو، بيا وروسته له مختلفو تطوراتو دغې درجې ته رسېدلى وي چې انساني روح په کې وپوکل شي.

وَالْجَانَّ خَلَقْنَاهُ مِن قَبْلُ مِن نَّارِ السَّمُومِ ﴿٢٧﴾

او جان (پلار د پيريانو) پيدا کړى دى مونږ هغه پخوا له (انسانه) له اوره بې لوګې څخه.

تفسير: يعنې لطيف اور او هوا سره ګډه کما قال الله تعالى: ﴿وَخَلَقَ الْجَانَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ﴾ (۲۷ جزء د الرحمن سورت (۱۵) آيت اوله رکوع)، د انسانانو پلار له داسې يو مادې څخه پيدا کړى شوى دى، چې د خاورو عنصر په کې غالب دى،

او د پيريانو پلار له هسې يوې مادې څخه روغ شوی دی چې په هغه کې د اور عنصر غلبه درلوده، چې (ابليس) هم په همدغه قسم کې وو.

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٨﴾ فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴿٢٩﴾

او (ياد کړه) هغه وخت چې وويل رب ستا ملائکو ته چې بېشکه زه پيدا کوونکی يم د يوه بشر له کودرو کړنګېدونکو وچو څخه (چې جوړ شوي دي) له تورې خټې خوسا شوې څخه. نو کله چې برابر مې کړ دغه او پو مې کړ په ده کې له روح خپل (او دی پرې ژوندی شو)؛ نو پر ېوځئ تاسې ده ته په دې حال کې چې سجده کوونکي يئ.

تفسير: يعنې د آدم عليه السلام کالبوت به جوړ کړم، او د دې قابل به يې وګرځوم چې انساني روح پکی و پوکل شي، چې په هغه له يو جماد څخه انسان جوړېږی، نو په دغه وخت کې به تاسې ته حکم درکول کيږي چې ګرد ورته سجده کړئ.

تنبيه: پاک الله چې د «روح» (سا) اضافت پخپل طرف وکړ، دغه محض تشريف او تکريم او د انساني روح د امتياز د ښکاره کولو لپاره دی.

فَسَجَدَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴿٣٠﴾ إِلَّآ إِبْلِيسَ ۖ أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٣١﴾ قَالَ يَٰٓإِبْلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ لَمْ أَكُن لِّأَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهُۥ مِن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٣٣﴾

نو سجده وکړه ملائکو ټولو د دوی تمامو (يو کرت). مګر خو ابليس، (چې له ډېره کبره) منع يې راوړه له دې نه چې شي دی سره له سجده کوونکو (آدم ته، نو) وفرمايل (الله) ای ابليسه ! څه (عذر) وو تا لره (په دې کې) چې نه شوې ته سره له سجده کوونکيو؟. وويل (ابليس) چې نه يم زه (لايق د دې کار) چې سجده وکړم (داسې) بشر ته چې پيدا کړی تا له کودړو کړنګېدونکيو وچ (چې جوړ شوی دی) له تورې خټې خوسا شوې.

تفسير: يعنې شيطان وويل: آدم عليه السلام پيدا شوی دی د «خسيس» شي نه چې خاورې دي، او زه پيدا يم له «شريف» شي نه چې اور دی، نو روحاني لطيف څيز جسماني کثيف څيز ته څرنګه سجده وکړي؟ .

قَالَ فَٱخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٣٤﴾

نو وفرمايل (الله ابليس ته) پس ووځه ته له دې ځايه، نو بېشکه ته رټلی شوی يې.

تفسير: يعنې له جنته، يا له آسمانه، يا د ملائکو له ټولې، يا له دغه عالي مقامه چې تر اوسه پورې ته هغه ځای ته رسېدلی وې (ځه ووځه، نو بېشکه ته رټلی شوی يې)، يعنې مردود او مطرود يې، يا به «رجيم» اشاره وي هغه طرف ته چې پخوا تېر شو، چې په «شهاب» د ستورې په لمبو شياطين ويشتلی شي، ګواکې په دغه لفظ سره د هغې شبهې جواب ورکړی شوی دی، چې ستا انکار له سجدې څخه د عنصري شرف په اعتبار نه دی، فضل او شرف خو خاص هغه چا لره دی چې پاک الله ورته سرلوړي او افتخار ورکړي، هو ! ستا د دغې اباء او استکبار منشأ خو هغه شقاوت او بدبختي ده، چې ستا د بد استعداد لامله په تا کې مضمر او مقدر دی.

وَإِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٣٥﴾

او بېشکه پر تا باندې دی (ای شیطانه !) لعنت تر ورځې د جزاء پورې.

تفسیر: یعنې ای شیطانه ! د قیامت تر ورځې پورې د الله تعالی له رحمته لرېوالی، او د بندګانو له لورې به هم لعنت دربانديې وریږي، او په دغه ترتیب سره آناً فاناً ته له خیره لرې کېږې، کله چې تر قیامته پورې به د خیر توفیق ونه لرې، او وروسته له هغه بله موقع له سره نشته، ځکه چې په آخرت کې به هر سړی همغه رېیي چې دلته یې کرلي وي، یا داسې ووایه چې: د قیامت تر ورځې پورې به لعنتونه پرې وریږي، او وروسته له هغه به په بېشمارو اقسامو عذابونو کې اخته کیږي، یا به د ﴿إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ﴾ لفظ له دوامه کنایه وي.

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿٣٦﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ ﴿٣٧﴾ إِلَىٰ يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ ﴿٣٨﴾

وویل (ابلیس) ای ربه ځما ! پس مهلت راکړه ماته تر هغې ورځې پورې چې بیا پورته کولی شي (خلق) له قبورو. وفرمایل (الله) نو بېشکه چې ته له مهلت ورکړیو شویو ځخه یې. تر (هغې ورځې) د وخت معلومه (فناء د مخلوقاتو) پورې.

تفسیر: د دغې واقعې تفصیل په «البقره» او «الأعراف» په سورتونو کې تېر شوی دی، او مونږ د «الأعراف» په دویمه رکوع کې د دې په اجزاوو څه کلام هم کړی دی، هغه دې هلته بیا ولوستل شي.

قَالَ رَبِّ بِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٣٩﴾ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾

وویل (ابلیس) ای ربه ځما ! قسم دی ما لره په سبب ګمراه کولو ستا ما لره چې خامخا ښایسته به کړم هرومرو (خامخا) (ګناهونه) دوی ته په ځمکه کې، او خامخا زه به ګمراهان کړم هرومرو دوی ټول. مګر خو هغه بندګان ستا له دوی څخه چې خالص کړی شوي دي (له ګناهونو).

تفسیر: یعنې انسانانو ته به د دنیا پسرلی ورښکاره کوم، او د نفساني غوښتنې په حال کې به یې راګډروم، او ستا د مخصوصو او منتخبو بندګانو څخه ماسوا نور ګرد به له لارې څخه بې لارې کوم، لعین ابلیس دغه کلمات د انتقام په جوش کې ویلي دي، چې مطلب یې داسې وو، چې زه خو ستا هیڅ شی نشم درخرابولی، لیکن په هغه سبب چې زه لرې غورځولی شوی یم، د خپل قدرت سره موافق د ده تر نسلونو پورې به هم خپل انتقام اخلم، د «الأعراف» په سورت کې په دغه موضوع مونږ څه لیکلي دي، هغه دې بیا ولوستل شي !.

قَالَ هَٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ ﴿٤١﴾

نو بیا وفرمایل (الله) دغه (اخلاص په عمل کې) لاره ده تر ما پورې برابره.

تفسیر: یعنې بېشکه د بندګۍ او اخلاص لاره سمه برابره تر ما پورې رسیږي، او همدغه ځما صافه او سمه لاره ده چې په کې هیڅ لوړه (پورته) ژوره (ښکته) او کاږه واږه نشته، او هر چا چې د عُبودیت او اخلاص طریقه اختیار کړه؛ همغه به د شیطان لعین له تسلّط نه مأمون پاتې کیږي، او هر څوک چې د هغه ملعون متابعت کوي، له هغه سره به دوزخ ته ځي.

إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ إِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْغَاوِينَ ﴿۴۲﴾

بېشکه خاص بندګان ځما چې دي؛ نشته تاته پر دوی هیڅ تسلّط (او غلبه په ګمراه کولو دهغوی کې) مګر هغه څوک چې متابعت کوي ستا له ګمراهانو (چې ستا زور پرې رسيږي).

تفسير: يعنې بېشکه پر هغه ښو غورو او منتخبو بندګانو چې د هغو ذکر پاس وشو؛ ستا هیڅ زور نه چلیږي، يا به يې دا مطلب وي چې: پر هیڅ بنده به ته په زور او زبردستی څه کار نشې کولی، هو ! هر هغه څوک چې پخپله ګمراه او بې لارې شي، او د خپل جهله او حماقته تا پسې رهي (روان) شي؛ هغه پخپل اختیار خپل ځان خراب او بربادوي، لکه چې په (۱۳ جزء د ابراهیم سورت په (۲۲) آیت (۴) رکوع) کې پخپله د شیطان مقوله تېره شوه: ﴿وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ إِلَّا أَن دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي﴾.

وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿۴۳﴾ لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ لِّكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ جُزْءٌ مَّقْسُومٌ ﴿۴۴﴾

او بېشکه چې جهنم (دوزخ) خامخا ځای د وعدې د دغو (تابعانو ستا) دی د ټولو. چې دي دې (دوزخ) لره اوه دروازې، لپاره د هرې دروازې له دې (ګمراهانو) څخه يوه برخه به وي قسمت (او تعيين) کړی شوي.

تفسير: ځينو اسلافو له ﴿سَبْعَةُ أَبْوَابٍ﴾ څخه د دوزخ اوه طبقې لاندې او باندې مراد کړي دي، لکه چې ابن عباس رضي الله تعالى عنه د هغوی نومونه داسې راښوولي دي: (۱): جهنّم، (۲): سعير، (۳): لَظى، (۴): حُطمه، (۵): سقر، (۶): جحيم، (۷) هاويه، او د جهنّم د لفظ اطلاق پر يوې خاصې طبقې او پر ګردو طبقاتو پر دواړو کيږي، د ځينو په نزد تر ټې هغه اووه دروازې مراد دي، چې په هغو کې به ښل ښل مجرمان سره ننوځي، والله أعلم.

شاه صاحب ليکي: «لکه چې جنّت اته دروازې لري، او په نېک عملو کسانو ويشلې شوي دي؛ همداسې د دوزخ دغه اووه ورونه هم پر بد عملانو ويشلې شوي دي، ښايي د جنّت يو ور ځکه زيات وي؛ چې ځينې موحّدين د الله په خاص فضل او مرحمت سره به بې له عمله په جنّت کې داخليږي، باقي په عمل کې دروازې سره برابرې دي.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿۴۵﴾ ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ آمِنِينَ ﴿۴۶﴾

بېشکه ځان ساتونکي (له متابعت د ابليس) په جنتونو کې به وي او په چينو کې به وي. (او وبه ويلی شي دوی ته) ننوځئ دغو جنتونو ته په سلامتی له هره آفته په دغه حال کې چې په امن به يئ (له زواله د نعمت).

وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ إِخْوَانًا عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَابِلِينَ ﴿۴۷﴾

او وبه باسو (لرې به کړو) هر هغه څه چې په زړونو د دغو (جنتيانو) کې دی له کينې څخه، حال دا چې (لکه) ورونه به وي، سره ناست به وي پر تختونو (د زرو چړاو په جواهرو) مخامخ يو بل ته.

تفسير: يعنې وروسته د جنت د رسېدلو څخه په اهل الجنت کې به يو تر بله هغه پخواني کدورتونه به له سره نه پاتې کيږي، او له ګردو مکدرو (خيرنو) شيانو څخه به دوی پاکيږي، او وروسته له هغه چې په جنت کې داخليږي، نه به هلته يو پر بل حسد او کينه کوي، بلکه ګرد لکه ورونه او خواږه ملګري په انتهايي محبّت او الفت سره اوسيږي، او هر يو به د يو بل د ليدلو څخه د ډېر زيات مسروريت او محظوظيت احساس کوي.

لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ وَمَا هُم مِّنْهَا بِمُخْرَجِينَ ﴿٤٨﴾

نه به رسيږي دغو (جنتيانو) ته په دغه (جنت) کې هيڅ قدر تکليف او نه به وي دوی له دغه (جنته) ايستلي شوي هيڅږي.

تفسير: په حديث کې دي چې جنتيانو ته به وويل شي: ای اهل الجنت ! اوس تاسې ته دغه انعام دی چې تل روغ رمټ او خوشاله اوسږئ، نه به له رنځوری څخه څه ربړ (تکليف) او زحمت درپيښږي، او نه به له موت او د هغه د لوازمو څخه څه کلفت در وړاندې کيږي، بلکه تل ژوندي آرام او خوشاله اوسږئ ! او له سره د سفر په تکليف به نه مقابل کږئ.

نَبِّئْ عِبَادِي أَنِّي أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيمُ ﴿٥٠﴾

خبر کړه (ای محمده !) بندګان ځما چې بېشکه همدا زه ښه بخښونکی (د خطيّاتو) ډېر رحم کوونکی يم. او (بل په دې چې) بېشکه عذاب ځما همدغه عذاب ډېر دردناک دی.

تفسير: د مجرمينو او متقينو خاتمه او انجام يې بېل بېل سره بيان وفرمايل، او دلته يې تنبيه کړې ده، چې په هر صورت کې د الله تعالی د يوه نه يوه صفت او شان ظهور دی، هيڅ شبهه نشته چې الله تعالی اصلاً پر خپلو ګردو مخلوقو اراده لري چې بخښش او مهرباني وکړي، او په حقيقت کې اصلي مهرباني د همده ده، د دنيا ګردې مهربانی د ده د مهربانيو يوه پلوشه او تجلي ده، ليکن هغه سړی چې له خپل شرارت او بدکاری څخه پر خپل ځان د ده د بخښش او مهربانی ورونه بندوي؛ نو بيا د هغه سزا هم دومره سخته ده، چې د هغې مخه هيڅوک نشي نيولی.

وَنَبِّئْهُمْ عَن ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ ﴿٥١﴾

او خبردار کړه دوی له (احواله د) مېلمنو د ابراهيم څخه (چې څو پرښتې وې).

تفسير: مېلمه يې ځکه وفرمايه، چې ابراهيم عليه السلام په ابتداء کې د هغو په نسبت د مېلمنو خيال فرمايلی وو، خو وروسته ورښکاره شوه چې دوی پرښتې دي.

إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ إِنَّا مِنكُمْ وَجِلُونَ ﴿٥٢﴾

کله چې ننوتلې دغه (پرښتې) پر ده (ابراهيم)؛ نو وويل دوی (سلام اچوو مونږ په تا) په سلام اچولو سره، نو وويل (ابراهيم کله چې دوی ډوډۍ ونه خوړه): بېشکه مونږ له تاسې څخه وېرېدونکي يو.

تفسير: په بل ځای کې يې فرمايلي دي: ﴿وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً﴾ يعنې وېره يې په زړه کې پټه کړه، نو ويل کيږي چې په ابتداء کې يې د هغې وېرې په پټولو کې کوښښ وکړ، او بالآخر يې ونشوه ساتلی، او په ژبه يې هم ورظاهره کړه.

يا به يې مطلب داسې وي؛ چې سره د هغې د پټولو، د خوف آثار د ده په څېره او نورو کې داسې څرګند (ښکاره) وو؛ چې ګواکې د حال په ژبه سره به يې ويل، چې زه خو له تاسې څخه ويرېږم، دغه وېره د څه لامله وه؟ د هغه تفصيل او د دغې واقعې په نورو اجزاوو کوم کلام چې شوی دی؛ هغه ګردې ښايي چې بيا په (١٢ جزء د هود عليه السلام د سورت په (٧) رکوع) کې ولوستل شي !.

قَالُوا لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ عَلِيمٍ ﴿۵۳﴾

نو وویل (ملائکو) مه ویرېره ! بېشکه چې مونږ زېری کوو تاته په هلک ډېر پوه هوښیار سره (کله چې بالغ شي).

تفسیر: یعنې د ویرېدلو هیڅ ضرورت نشته، بلکه د خوښۍ ځای دی چې په دغه زوړوالي کې مونږ تاسې ته د الله تعالی له جانبه د اولاد زېری درکوو، اولاد هم څرنګه؟ هلک ! چې ډېر هوښیار لوی عالم دی، چې د نبوّت پر علومو او د نبوّت پر منصب فائز ېږي: ﴿وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ نَبِيًّا مِّنَ الصَّالِحِينَ﴾ (۲۳ جزء د الصافات سورت (۱۱۲) آیت (۳) رکوع).

قَالَ أَبَشَّرْتُمُونِي عَلَىٰ أَن مَّسَّنِيَ الْكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ ﴿۵۴﴾

وویل (ابراهیم) آیا زېری راکوئ ماته (ای پرښتو په ولد سره) سره د دې چې رسېدلی دی ماته زوړوالی؛ نو په کومه وجه تاسې زېری راکوئ؟ .

تفسیر: کله چې په غیر متوقّع او فوق العاده ډول سره دغه زېری یې واورېد؛ نو خپل زوړتوب ته یې کتلې دغه خبره څه عجیبه او غریبه ورځرګنده (ښکاره) شوه، دغه د انساني طبیعت خاصه ده، کله چې انسان ته کومه ښه فوق التصور او خلاف التوقّع خبره یو ناڅاپه ورسېږي؛ نو سره له باور او یقین کولو د هغه تحقیق او تفتیش او تعقیب په ډېر ښه ډول سره کوي، او د هغه په څېړنه کې د تعجّب لهجه اختیاروي، څو خبر ورکوونکي په پوره تاکید او تصریح سره خپله خبره او زېری بیا په ښه ډول سره تکرار کړي، او دی یې په ښه ځیر سره بیا هم واوري، چې په هغه کې نه د هیڅ قسم ابهام او غلط فهمی احتمال، او نه د تأویل او التباس جنجال پاتې شي، ګواکې د تعجب له ښکارولو څخه د بشارت ښه واضح کول او پخول او د اورېدلو له تکراره نوی لذت حاصلول مقصود وي.

قَالُوا بَشَّرْنَاكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُن مِّنَ الْقَانِطِينَ ﴿۵۵﴾ قَالَ وَمَن يَقْنَطُ مِن رَّحْمَةِ رَبِّهِ إِلَّا الضَّالُّونَ ﴿۵۶﴾

وویل (ملائکو ابراهیم ته) چې زېری کړی دی مونږ تاته په حقه (په رښتیا) سره، نو مه کېږه ته له جملې د ناامیدانو څخه. وویل (ابراهیم چې زه نه یم ناامیده) او څوک دي؟ چې ناامیده کیږي به له رحمته د رب خپل (نه ناامیده کیږي هیڅوک) مګر خو ګمراهان (کافران).

تفسیر: یعنې د الله تعالی له رحمته خو عام مسلمانان هم نشي ناامیده کېدی، نو انبیاوو علیهم السلام ته به (معاذ الله) څرنګه له هغه تردّد پېښېږي؟ د عادیه وو اسبابو او د خپل موجوده حالت په اعتبار دغه یو عجیب شی رامعلوم شو، او د هغه په نسبت مې د تعجّب اظهار وکړ، چې د پاک الله په قدرت اوس په دغه زوړوالي کې به زه د اولاد پلار کېږم؟، شاه صاحب لیکي: «له عذابه د الله نه ویرېدل او د الله تعالی له فضله ناامیده کېدل دواړه د کفر خبرې دي».

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ﴿۵۷﴾

وویل (ابراهیم) نو نور څه مقصود دی ستاسې (برسېره پر دې زیري) ای رالېږلي شویو (پرښتو له الله نه، او چېرته ځئ؟).

تفسیر: یعنې آیا محض تاسې د همدغه بشارت اورولو لپاره لېږلي شوي یئ؟ یا په بل کوم مهم کار هم مامور شوي یئ؟ اغلباً له قرائنو څخه به ابراهیم علیه السلام پوهېدلی وي؛ چې دوی د کوم بل غټ کار لپاره هم راغلي دي.

قَالُوٓاْ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمٖ مُّجۡرِمِينَ ٥٨ إِلَّآ ءَالَ لُوطٍۖ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمۡ أَجۡمَعِينَ ٥٩ إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ قَدَّرۡنَآ إِنَّهَا لَمِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ٦٠

نو وويل (ملائکو) چې بېشکه مونږ رالیږلي شوي یو هغه قوم (د لوط علیه السلام) ته چې مجرمان (کافران) دي. مګر آل د لوط چې بېشکه هرومرو مونږ نجات ورکوونکي ساتونکي یو د دوی د ټولو (له عذابه). مګر ښځه د دغه (لوط) چې مقدّره مقرره کړې وه مونږ (په حکم د الله سره) چې بېشکه دا له بېرته پاتې کیدونکیو ده (په معذّبینو کې).

تفسیر: یعنې دغه ښځه به له نورو کفّارو سره په عذاب کې مبتلا کیږي.

تنبیه: ظاهر خو همدغه دی چې: ﴿قَدَّرۡنَآ إِنَّهَا لَمِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ﴾ د هغو ملائکو مقوله ده چې سره له عذابه راغلې وې، کله چې دوی د قضاء او قدر د فیصلې نافذ کولو لپاره په رسمي ډول سره راغلې وې؛ نو ځکه د تقدیر نسبت یې نیابتاً پخپل طرف وکړ، او ممکن دي چې دغه ﴿قَدَّرۡنَآ﴾ الآیة ـ د الله تعالی کلام وي، نو په دغه تقدیر سره هیڅ اشکال نشته.

فَلَمَّا جَآءَ ءَالَ لُوطٍ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ٦١ قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ ٦٢

نو کله چې راغلل آل د لوط ته (هغه) لېږلې شوې (ملائک). نو وویل (لوط) دوی ته: بېشکه تاسې یو قوم یئ بل رنګ (نا آشنا ویروونکی).

قَالُواْ بَلۡ جِئۡنَٰكَ بِمَا كَانُواْ فِيهِ يَمۡتَرُونَ ٦٣

وویل (پرښتو: نه یو مونږ ناآشنا ډارونکي) بلکه (ملائک یو چې) راغلي یو تاته په هغه (عذاب) سره چې وو (قوم ستا) چې په هغه کې به یې شک کولو (له ډېر جهل او عناده).

تفسیر: یعنې مه ویرېږه ! مونږ بنیادمان نه یو، مونږ خو له اسمانه هغه شی له خپله ځانه سره راوړی دی، چې په هغه کې دا خلق له تا سره جګړې کوي، یعنې هغه مهلک عذاب چې ته په هغه سره درکړده دوی ویروې، او دوی پرله پسې تري انکار کوي.

وَأَتَيۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ٦٤

او راوړی دی مونږ تاته حق (چې عذاب دی) او بېشکه مونږ خامخا یو صادقان (رښتین په دغه خبره کې).

تفسیر: یعنې اوس تاسې بالکل مطمئن شئ ! دغه بالکل داسې پخه او غوټه شوې خبره ده چې په کې له سره د درواغو احتمال نشته.

فَأَسۡرِ بِأَهۡلِكَ بِقِطۡعٖ مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَٱتَّبِعۡ أَدۡبَٰرَهُمۡ وَلَا يَلۡتَفِتۡ مِنكُمۡ أَحَدٞ وَٱمۡضُواْ حَيۡثُ تُؤۡمَرُونَ ٦٥

نو بوځه (وباسه) عیال خپل (له دې شپې) په یوه ټوټه د شپې او ته (هم ځه) وروسته په دوی پسې، او نه دې ګوري بېرته له تاسو څخه هیڅ یو (چې ونه ویریږي)، او ځئ تاسې هغه ځای ته چې امر حکم شوی دی (تاسې ته).

تفسير: يعني كله چې د شپې لږ څه برخه پاتې شي؛ نو ته سره د خپلې کورنۍ له دې ښاره ووځه ! او تاسې له ګردو څخه وروسته لاړ شئ، څو پوره مطمئن شئ چې بل ستاسې هيڅوک نه دی پاتې شوی، يا له لارې ښه برته نه دی ګرځېدلی، نو په دغه صورت کې به ستاسې زړونه بالکل ډاډه او مطمئن کيږي، او په پوره خاطر جمعی سره به د الله تعالی په ذکر او شکر کې مشغولېږئ، او د خپلو ملګرو له احواله به په ښه شان سره خبر ېږئ، د بل لوري ستاسې د دغه ښه برته تللو لامله به وړاندې تلونکي ستاسې له وېرې شا نه ګرځوي، او وروسته به نه ګوري.

په دې ډول به د ﴿وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ﴾ پوره امتثال کېدی شی، او دغه کسان به د خطر له ځايه لرې پاتې کيږي، او دوی به تاسې خپل ظاهري ملاتړ او ظهير ګڼي، (او ځئ تاسې هغه ځای ته چې پرې حکم کړی شوی دی تاسې ته) يعني د شام په ملک کې، يا بل کوم ځای ته چې پاک الله دوی ته هغه د امن ځای مقرر کړی وي.

وَقَضَيْنَا إِلَيْهِ ذَٰلِكَ الْأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰؤُلَاءِ مَقْطُوعٌ مُّصْبِحِينَ ﴿٦٦﴾

او وحي کړې وه مونږ دغه (لوط) ته د دې کار (چې تفسير يې دا دی) چې ښېشکه ښخ د دې کسانو به پرې کړی شي په دې حال کې چې دوی په سبا کې داخليږي.

تفسير: يعني لوط عليه السلام ته مونږ د ملائکو په واسطه دغه قطعي فيصله واوروله، چې عذاب هيڅ لرې نه دی، اوس د ګهيځ (سحر وختي) په وخت کې به بالکليه دغه قوم استيصال (هلاک) کړی شي، او بيخي به فنا کيږي، ښايي چې مطلب يې داسې وي چې د صباح پر شروع کېدلو سره به عذاب هم شروع کيږي، او تر لمر ختو (اشراق) پورې به ګرده معامله پای ته ورسيږي، ځکه چې په بل ځای کې د «مصبحين» په ځای د «مشرقين» لفظ راغلی دی.

وَجَاءَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٦٧﴾

او راغلل اهل (د هغه) ښار (کور د لوط ته) چې خوښي زيري يې کولو (يو په بل سره په چرت د لواطت کې).

تفسير: يعني کله چې يې واورېده چې د لوط عليه السلام کره ډېر حسين او جميل هلکان مېلمانه شوي دي؛ نو د خپل عادت لامله په ډېر شوق او رغبت د هغه په لوري ور په منډه شول، او د ده د کور په شاوخوا کې سره غونډ شول، او د لوط څخه يې مطالبه وکړه چې دغه هلکان مونږ ته راوسپاره.

تنبيه: په ﴿وَجَاءَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ﴾ الآية ـ کې «واو» د مطلق جمع لپاره دی، دلته د واقعاتو د ترتيبو بيان ملحوظ نه دی، د «هود» او د «الأعراف»په سورتونو کې دغه قصه تېره شوې ده، هغه دې سره د هغو تفاسيرو دلته بيا ولوستل شي !.

قَالَ إِنَّ هَٰؤُلَاءِ ضَيْفِي فَلَا تَفْضَحُونِ ﴿٦٨﴾ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ ﴿٦٩﴾ قَالُوا أَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعَالَمِينَ ﴿٧٠﴾

وويل (لوط) چې ښېشکه دا کسان مېلمانه ځما دي، نو مه شرموئ ما (په رسوايي د دوی؛ ځکه چې د مېلمه فضيحت د کوربه رسوايي ده). او وويرېږئ تاسې له الله (او لواطت مه کوئ) او مه سپکوئ تاسې ما (د مېلمنو په مخ کې).بيا وويل (قوم د لوط لوط ته) آيا نه وې منع کړی مونږ ته له (پناه ورکولو د) خلقو نه؟.

قَالَ هَٰؤُلَاءِ بَنَاتِي إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ ﴿٧١﴾

وويل (لوط) چې دغه دي لونې ځما که يئ تاسې کوونکي (د نکاح له دغو سره).

تفسير: تاسې خپله غور وکړئ، چې آيا د شهوت د قضاء حلالي مواقع ستاسې په مخکې موجود نه دي، چې د دغسې چټې (بېکاره) حرام کارۍ مرتکب کېږئ؟ دغه دي ستاسې سځې (چې ځما د لونې په شانې دي) ستاسې په کورونو کې موجودې دي، که تاسې ځما پر وينا عمل وکړئ او د شهوت د قضاء پر مشروعه او معقوله طريقه لاړ شئ، نو د حاجت د قضاء لپاره هغوی کافي دي، دا څومره بده او خرابه خبره ده چې له حلال او طيب شي څخه تاسې مخ اړوئ او د حرامو په پلټنې کې ځان ککړوئ.

لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿٧٢﴾

(نو وفرمايل الله) قسم دی په عمر ژوند ستا (ای محمده !) چې بېشکه دغه (قوم د لوط) خامخا په مستۍ (د ګمراهۍ) خپله کې مدهوشان دي.

تفسير: ظاهر خو دغه دی چې دا خطاب د الله تعالی له طرفه نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته دی، يعنې ستا په عمر او ژوند قسم دی چې د لوط عليه السلام قوم د غفلتونو او مستيو په نشو کې بيخي ويده (اوده) او ړانده شوي وو، دوی په ډېره بې پروايۍ سره د لوط عليه السلام نصيحت ونه مانه، بلکه تر پښو لاندې به يې غورځاوه، دوی د خپلو قوتونو په نشو کې مست وو، شهوت خوښول د دوی زړه او دماغ بيخي مسخ او خراب کړي وو، دوی په ډېر امن او اطمينان د الله تعالی د نبي سره جګړې کولې، او نه پوهېدل چې تر سحره پورې دوی ته څه حال پېښېدونکی دی؟ د تباهۍ او د موت وريځې د دوی پر سر ورختلې وې، دوی د لوط عليه السلام پر خبرو خندل، خو مړګ د دوی پر دغه وضعيت خندېده.

فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ ﴿٧٣﴾

نو ونيول هغوی لره غږ هيبتناک (د جبريل) حال دا چې داخلېدل دوی په وخت د ختلو د لمر کې.

تفسير: د دې په متعلق مونږ په همدغه قريب ځای د ﴿دَابِرَ هَٰؤُلَاءِ مَقْطُوعٌ مُّصْبِحِينَ﴾ په تفسير کې کلام کړی دی، «ابن جريج رحمه الله تعالی» وايي: هر هغه عذاب ته چې په هغه سره کوم قوم هلاک کولی شي؛ «صيحه» يا «صاعقه» ويلی شي.

فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ ﴿٧٤﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ﴿٧٥﴾

نو وګرځولو مونږ پورته طرف د دې ښارونو ښکته طرف د دوی، او اُووَرول مونږ پر هغوی کانې له کرتکانو څخه (چې په هر يوه به د خپل مرجوم «سنګسار» نوم ليکلی وو). بېشکه چې په دغه (مذکور کې چې تېرې قصې دي) خامخا دلائل (د عبرت او قدرت) دي لپاره د پوهانو عبرت اخيستونکو.

تفسير: د سدومیانو د تعذيب تفصيل د «هود» په سورت او نورو کې تېر شوی دی، «متوسم» په اصل کې هغه شخص ته وايي: چې د ځينو ظاهري علاماتو او قرائنو له ليدلو څخه يوائې په فراست سره د کوم شي سراغ لګوي.

په حديث کې راغلي دي: «اتقوا فراسة المؤمن فإنه ينظر بنور الله»، په ځينو روايتونو کې د «بتوفيق الله» زيادت شته، يعنې د مؤمنينو له فراسته تل ووېرېږئ چې مؤمن د الله تعالی له عطا کړی شوې رڼا په توفيق سره وينې.

وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ﴿٧٦﴾

او بېشکه دغه (قريې) خامخا پرتې دي په لاره سمه (چلنده) کې.

تفسير: له مکې معظّمې ځنې د شام په لوري تلونکيو ته د دغو چپه (وران) شويو ښارو کنډوالې په نظر راتللې ﴿وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِم مُّصْبِحِينَ﴾ (۲۳ جزء د الصافّات سورت (۱۳۷ - ۱۳۸) (۴) رکوع).

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾

او بېشکه په دغه (اهلاک د هغوی) کې خامخا دليل (د عبرت) دی مؤمنينو ته.

تفسير: يعنې د هغو کنډوالو له ليدلو څخه بالخصوص مؤمنينو ته عبرت حاصليږي، ځکه چې هغوی پوهيږي چې د لوط عليه السلام د قوم د بغاوت او بدکارۍ په سزا کې دغه ښارونه سره د اوسېدونکو د هغو له يوه مخ اړولي شوي دي، د مؤمنينو څخه ما سوا نور خلق ممکن دي چې د هغو د ليدلو څخه داسې ووايي چې: دغه ورانی محض اتفاقي يا طبيعي ـ يا د بخت او طالع (بدبختی) يا د نورو عواملو لامله واقع شو دی.

وَإِن كَانَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ لَظَالِمِينَ ﴿٧٨﴾

او په تحقيق شان دا دی چې وو خاوندان د ځنګل (له قوم د شُعيب) خامخا له ظالمانو (په سبب د کفر خپل).

تفسير: د «ځنګل» اوسېدونکي، يعنې د شُعيب عليه السلام قوم چې د «مدين» په ښار کې اوسېدل، او هغوی ته نژدې د ونو ځنګل (بن) وو، او ممکن دي چې ځينې خلق به هلته هم اوسېدل، ځينې وايي چې «أصحاب الأيكه» او «أصحاب المدين» دوه سره جلا (جدا) قومونه دي، چې شُعيب عليه السلام د دواړو په لوري مبعوث شوی وو، دغو کسانو ګناه شرک او بت پرستی او داړه ماری او په تول او پيمانه کې فريب ورکول او غولول وو، د دوی مفصّله قصه د «هود» او د «الأعراف» په سورت کې تېره شوې ده، هلته دې ولوستله شي.

فَانتَقَمْنَا مِنْهُمْ ۖ وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٍ مُّبِينٍ ﴿٧٩﴾

نو انتقام واخيست مونږ د دوی څخه (په سخته سزا سره) او بېشکه دا (ښارونه د لوط او شُعيب) خامخا پراته دي په لاره لويه ښکاره کې.

تفسير: يعنې د شام او حجاز پر هغې لارې چې د لوط عليه السلام د قوم کلی وو، له هغو څخه لږ څه ښکته د شُعيب عليه السلام د قوم مسکن وو، د دغو دواړو آثار به تلونکو راتلونکو ته په نظر راتلل.

وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَابُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِينَ ﴿٨٠﴾

او خامخا په تحقيق دروغجن شميرلي وو خاوندانو د حجر (يعنې ثموديانو) د الله رسولانو لره.

تفسير: له أصحاب الحجر څخه مقصود «ثموديان» دي، چې د دوی د ملک نوم «حجر» وو، او د مدينې منورې په شمال کې واقع دی، او د دوی په لوري صالح عليه السلام مبعوث شوی وو، هغوی دی دروغجن وګڼه، چې همدغه يوه نبي ته د دروغو نسبت کول ـ ګواکې ګردو (ټولو) انبياوو ته د دروغو نسبت کول دي.

وَآتَيْنَاهُمْ آيَاتِنَا فَكَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٨١﴾

او ورکړي وو مونږ دغو (ثموديانو) ته دلائل خپل؛ نو وو دوی له هغو (معجزو) څخه مخ ګرځوونکي.

تفسير: يعني هغه اوښه چې له تيرې (ګټې) څخه ايستلې شوې وه، او برسېره پر هغه نور معجزات.

وَكَانُوا يَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا آمِنِينَ ﴿٨٢﴾

او وو دوی چې تورلې کښودلې به يې له غرو څخه کوټې په دې حال کې چې په امن کې به وو (په هغو کې له هره آفته).

تفسير: يعني پر دنيوي ژوندون مغرور وو، او د خپل تکبّر او لويۍ د ښکاره کولو لپاره يې غرونه تورل، او لوی عاليشان منازل به يې جوړول، او داسې به يې ګڼل چې مونږ له سره له دې ځايه بل چېرې تلونکي نه يو، او پخپلو منځو کې به يې سره ويل چې: «مونږ ته به په داسې مضبوطو او مستحکمو عمارتو کې هيڅ يو آفت او مصيبت له سره نه وي رارسېدونکی».

فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِينَ ﴿٨٣﴾ فَمَا أَغْنَىٰ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٨٤﴾

نو ونيول هغوی لره غږ هيبتناک (د جبريل) په دغه حال کې چې داخلېدل دوی په سبا کې؛ نو دفع نه کړ له دوی نه (هيڅ عذاب) هغو شيانو چې وو دوی چې حاصلول به يې (چې ټينګې بناوې، اموال، رجال او نور وو).

تفسير: يعني مال ـ دولت ـ مستحکم عمارات ـ جسماني قوت او نور اسباب او وسائل هيڅ يو شی هم د الله تعالی عذاب نشي دفع کولی، د دوی قصه هم پخوا تېره شوې ده.

په حديث کې دي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د تبوک د تګ په وخت کې کله چې د «حجر» پر وادي تېرېده؛ نو خپل مبارک سر يې پخپل څادر پټ کړ، او د خپلې سورلۍ تګ يې تېز کړ، او اصحابو ته يې امر وکړ، چې «د معذّب قوم په کليو کې مه ننوځئ ! مګر په داسې شان چې د الله تعالی له وېرې وژاړئ، او که ژړا نه درځي؛ نو د ژړېدونکو په شان وضعيت ځان ته غوره کړئ ! الله تعالی دې داسې ونه کړي چې تاسې ته هم داسې در ورسيږي، چې دغو ته رسېدلی وو».

دغه يې مسلمانانو ته ادب وروښود؛ چې سړی ښايي د دغسې ځايونو له کتلو څخه عبرت واخلي، او د پاک الله له وېرې څخه لړزېدونکی او وېرېدونکی وي، او د هسې ځايونو ليدل دې تش سيل او تماشا ونه ګڼي !.

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ ۗ وَإِنَّ السَّاعَةَ لَآتِيَةٌ ۖ فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيلَ ﴿٨٥﴾

او نه دي پيدا کړي مونږ اسمانونه او ځمکه او هر هغه څه چې په منځ د دوی کې دي مګر په حق (او حکمت او تدبير) سره، او بېشکه قيامت خامخا راتلونکی دی (نو الله تعالی ستا انتقام اخلي له مکذّبانو څخه)؛ نو څنګ وکړه ته له دوی نه په څنګ کولو نېکو سره (يعني عفوه ورته وکړه).

تفسير: شاه صاحب ليکي: «د پخوانيو امتونو حال يې واوراوه چې دا جهان همداسې تش نه دی، او پر سر يې يو لوی مدبر شته، چې د ده لوی ذات د هر څيز تدارک کوونکی دی، او د مکمل او آخري تدارک نوم قيامت دی، او له کفّارو څخه د څنګ کېدلو امر يې هلته وفرمايه، چې د الله حکم ورسولی شي، او د تبليغ فرض اداء کړی شي، او کافران لا پخپل ضد او عناد باندې ټينګ ولاړ وي، نو دلته حکم وشو چې د زياتې جګړې کولو څخه هيڅ يوه فائده نشته، اوس نو د وعدې لارې ګوره ! او د دوی په ايذاء او تکليف صبر کوه ! او د شکايت حرف پر خپله ژبه مه راوړه ! تر څو چې د پاک الله فيصله راشي»، (ځينو ويلي دي چې دغه حکم منسوخ شوی دی په آيت د سيف سره).

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيمُ ﴿٨٦﴾

بېشكه رب ستا همدى دى ښه پيدا كوونكى ډېر علم والا.

وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنَ الْعَظِيمَ ﴿٨٧﴾

او خامخا په تحقيق در كړى دى مونږ تاته اوه آيته له فاتحې او (در كړي دي مونږ تاته) قرآن عظيم (الشان خورا ډېر لوى).

تفسير: شاه صاحب ليكي: «يعنې دغومره لوى نعمت ته وګوره چې تاته عطا شوى دى، او د كفارو له ضده مه خپه كېږه!».

تنبيه: د «سبع المثاني» په مصداق كې اختلاف دى، صحيحه او راجحه همدغه ده، چې له هغه څخه د سورت «الفاتحه» اووه آيتونه مراد دي، چې د هر لمانځه په هر ركعت كې تكراريږي، په صحيحه وو احاديثو كې تصريح ده چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم د سورت «الفاتحه» په نسبت فرمايلي دي چې: «همدغه «سبع المثاني» او عظيم الشان قرآن دى؛ چې ماته راكړى شوى دى»، او دغه وړوكي سورت ته «قرآن عظيم» يعنې لوى قرآن فرمايل د اعتبار په درجه دي، دغه سورت ته «أم القرآن» هم په همدغه لحاظ ســره وايي، چې ګواكې دغه يوه خلاصه او عماد دى، چې ښايي د هغه پوره تفصيل او شرح پاك قرآن ګڼلى شي، د عظيم الشان قرآن د تمامو علومو او مطالبو اجمالي نقشه يواځې په همدغه سورت كې شته.

برسېره په دې د «مثاني» د لفظ اطلاق له ځينو حيثياتو لامله پر پوره قرآن هم كړى شوى دى: ﴿اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ﴾ (٢٣ جزء د الزمر سورت (٢٣) آيت (٣) ركوع)، او ممكن دي چې نورو سورتونو ته هم له مختلفو وجوهو «مثاني» وويلى شي، مګر په دغه ځاى كې د «سبع مثاني» او «قرآن العظيم» مصداق همدغه د «الفاتحه» سورت دى، يا به له «المثاني» نه د «الفاتحه» سورت او له «القرآن العظيم» نه پخپله عظيم الشان قرآن مراد وي، او دغه عطف له قبيل د عطف د عام وي پر خاص باندې.

يعنې او خامخا په تحقيق سره در كړى دى مونږ تاته اى رسوله ځما اووه آيتونه له «الفاتحه» څخه، او در كړى دى مونږ تاته قرآن لوى چې يې لوى دى قدر او ثواب د لوستلو په نزد ځمونږ.

لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾

مه راكاړه او مه پورته كوه ستركې خپلې (په رغبت سره) هغو شيانو ته چې نفع وركړې ده مونږ په هغه سره حال دا چې هغه قسم قسم شيان دي دغو كفارو ته، او خفګان مه كوه په دغو (كفارو چې ايمان نه راوړي، يا په دې چې مؤمنان په ظاهري نعمتونو كې نه دي)، او ښكته كړه وزر خپل لپاره د مؤمنانو (او شفقت او مرحمت كوه پر دوى).

تفسير: مشركين ـ يهود ـ نصارى او د الله جلّ جلاله او رسول صلى الله عليه وسلم نورو دښمنانو ته د دنيا د څو ورځني ژوندانه سامان چې وركړى شوى دى؛ هغه ته مه ګورئ! دوى پرېږدئ چې څو ورځې مزې وكړي، تاسې ته پاك الله د قرآن عظيم هغه دولت در كړى دى؛ چې د هغه په مقابل كې د دنيا نور دولتونه هيڅ دي، په روايا تو كې راغلي دي: «هر چاته چې الله تعالى قرآن وركړي، او دى د نورو نعمتونو هوس كوي؛ ګواكې ده د قرآن قدر ونه كړ».

﴿وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ﴾ الآية ـ يعني غم مه خوره چې دوی ولې نه مسلمانيږي، تاسې د خپل تبليغ اداء کوئ ! او معاندينو پسې خپل ځان په زيات فکر او غم کې مه مبتلا کوئ ! ستاسې د شفقت او همدردۍ مستحق مؤمنين دي، له دوی سره د ملاطفت، پوستوالي، مهربانی، شفقت او تواضع وضعيت وکړئ !.

وَقُلْ إِنِّي أَنَا النَّذِيرُ الْمُبِينُ ﴿٨٩﴾

او ووايه (ای محمده !) چې بېشکه زه چې يم همدا زه وېرووونکی ښکاره يم (له عذابه د الله).

تفسير: يعني که يې منئ يا يې نه منئ؛ زه د الله تعالى پيغام صاف صاف تاسې ته رسوم، او د تکذيبونو او شرارتونو له بدو عواقبو (انجام) ځخه مو په ښکاره ډول (طريقه) سره اګاه کوم.

كَمَا أَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِينَ ﴿٩٠﴾ الَّذِينَ جَعَلُوا الْقُرْآنَ عِضِينَ ﴿٩١﴾

(درکړي مو دي تاته سبع المثاني يا لېړلی مو وو عذاب) لکه چې نازل کړی وو مونږ (عذاب) پر قسمت کوونکو. هغو چې ګرځولی يې وو (دغه) قرآن ټوټې ټوټې (چې ځينې ته به يې شعر او ځينې ته به يې سحر ويل).

تفسير: د دې آيت معنی په څو ډوله شوې ده، ځينو ويلي دي چې له «مقتسمين ـ ويشونکو) ځخه مراد د رسول الله صلى الله عليه وسلم د زمانې هغه يهودان او نصرانيان دي؛ چې د قرآن تقسيم او تحليل يې کړی وو، يعني هغه قرآني مضامين چې د دوی د تحريفاتو او آراوو او اهواوو سره موافق لويږي؛ نو يې مني، او هغه چې ترې مخالف واقع شي؛ نه يې مني.

مطلب به يې داسې شي چې: مونږ تاسې ته «سبع المثاني» او «عظيم الشان قرآن» درکړی، او لېړلی مو يې، او همغسې چې پخوانيو انبياوو ته مو کتابونه لېږل يا وحي مو نازلوله (يا پر پخوانيو کفارو مو عذاب نازلاوه؛ نو دغه) ارسال يا د وحي انزال کومه نوې عجيبه خبره نه ده، چې ترې انکار وکړی شي.

ځينو له «مقتسمين» ځخه يهود او نصارى او د قرآن له لفظه سابقه کتابونه مراد کړي دي، يعني هغوی تحريفات وکړل، او خپل کتابونه يې ځيرې کړل.

ځينو ويلي دي چې هغه مشرکان ترې مراد دي، چې د استهزاء او تمسخر په ډول په قرآن کې يې تقسيمات کول، کله چې د قرآني سورتونو نومونو به يې اوربدل؛ نو پخپلو منځو کې دوی سره خندل، او ويل به يې چې «البقرة» يا «المائدة» به زه اخلم، «العنكبوت» او «النمل» به تاته درکړم.

دغو کسانو په يو بل قسم سره هم د قرآن عظيم په متعلق خپل خيالات تقسيم کړي وو، چا به ورته شعر ويل، چا به جادو ګانه، چا به د لېونيانو د اپلتو نسبت ورته کاوه، چا به «أساطير الأولين» باله.

نو دغو ګردو ته يې خبر ورکړ؛ چې زه تاسې ګرد له داسې عذابه وېرووونکی يم، لکه چې يقينا پر دغو مسخرو کوونکيو باندې نازل کېدونکی دی.

په دې تقدير د «أنزلنا» تعبير به په دې لحاظ وي چې متيقن الوقوع او قريب الوقوع مستقبل ګواکې ماضي فرض شوی دی.

ابن کثير (رحمه الله) د «مقتسمين» معنی په قسم يادوونکو سره اخيستې ده، يعني هغو پخوانيو اقوامو چې د انبياوو په تکذيب او مخالفت باندې قسمونه ياد کړي وو، او پر دغو خبرو يې قسمونه يادول، دوی سماوي کتابونه ټوټې

ټوتې کړي وو، همغسې چې مونږ پر هغوی باندې عذاب نازل کړ، نو د همغه عذاب پشان سره دغه ﴿نَذِيرٌ مُّبِينٌ﴾ هم تاسې ویروي.

د «مقتسمين» د دې معنی په تایید کې «ابن کثیر» دغه آیات وړاندې کړي دي: ﴿قَالُوا تَقَاسَمُوا بِاللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُ وَأَهْلَهُ﴾ (۱۹ جزء د النمل سورت (۴۹) آیت (۴) رکوع)، ﴿وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَا يَبْعَثُ اللَّهُ مَن يَمُوتُ﴾ (۱۴ جزء د النحل سورت (۳۸) آیت (۵) رکوع)، ﴿أَوَلَمْ تَكُونُوا أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ﴾ (۱۳ جزء د ابراهيم (۴۴) آیت (۷) رکوع)، ﴿أَهَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ اللَّهُ بِرَحْمَةٍ﴾ (۸ جزء د الأعراف سورت (۴۹) آیت (۶) رکوع).

فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾

نو قسم دی په رب ستا چې خامخا وبه پوښتو مونږ خامخا دوی ټول (په ورځ د قیامت). د هغو اعمالو (د قسمت یا نسبت) څخه چې وو دوی چې کول به یې.

فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴿٩٤﴾

نو ښکاره (او په جهر کړه ای محمده !) هغه دعوت چې ته مامور یې پرې، او مخ واړوه له مشرکانو څخه (او مه کوه هیڅ التفات او پروا د دوی ویلو ته).

تفسیر: یعنې په ویلو کې هیڅ کوتاهي مه کوئ، او ښه پاک په ښکاره ډول سره د پاک الله پیغام ورسوئ ! دغه مشرکین ستاسې هیڅ شی نشي خرابولی.

إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ ﴿٩٥﴾ الَّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٩٦﴾

بېشکه مونږ کافي شوي یو لپاره ستا (له شره) د مسخرو کوونکو (او بس شوي یو له طرفه ستا په مقابل د اضرارو د هغو کې). هغه کسان چې ګرځوي (شریکوي) دوی سره له الله (چې بر حق معبود دی) معبود بل، نو ژر به پوه شي دوی (په عاقبت د کار خپل په دنیا او عُقبی کې).

تفسیر: یعنې په دنیا او آخرت کې مونږ ګردو مسخرو کوونکو ته سزا ورکوو، تاسې بې خوفه او خطره خپل تبلیغ ته دوام ورکړئ، ستاسې یوه ویښته ته به هم څه ضرر او زیان نه رسیږي.

﴿الَّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ﴾ یعنې له رسول الله سره د استهزاء ـ او له الله تعالی سره د شریک درولو د دغو دواړو انجام او سزا به دغه خلق ګوري.

وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ﴿٩٧﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ ﴿٩٨﴾ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ ﴿٩٩﴾

او خامخا په تحقیق معلوم دی مونږ ته؛ چې بېشکه ته چې یې تنګي راوړي سینه ستا په سبب د هغه خبرو چې وایي دغه (کفار). نو تل تسبیح وایه سره له حمده د رب خپل او شه تل له سجده کوونکیو څخه. او عبادت کوه د رب خپل تر هغه پورې چې راشي تاته یقین (یعنې مرګ).

تفسیر: یعنې که د کفّارو له ضده او عناده او له دې نه چې شریک دروي الله تعالی ته، او طعن وایي په قرآن، او تمسخر کوي په نبي صلی الله علیه وسلم، زړه تنګه شئ؛ نو تاسې هغوی ځنې خپله توجه واړوئ، او بیخي د الله تعالی په تسبیح

او تحميد کې مشغول شئ ! د الله تعالى ذکر ـ لمونځ ـ سجده ـ د الله تعالى عبادت هغه شيان دي؛ چې د هغه له تاثيره قلب مطمئن او منشرح او ډاډينه مومي، او فکر او غم تر لري کيږي، نو ځکه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم عادت وو، کله چې کومه مهمه خبره به ورپېښيده؛ نو دوی به په لمانځه مشغولېدل.

﴿وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ﴾ «او عبادت کوه د رب خپل تر هغه پورې چې راشي تاته يقين» يعنې موت، د جمهورو اسلافو په نزد په دغه آيت کې د «يقين» معنى په موت سره کيږي، يعنې د مړينې تر وخته پورې د الله تعالى په عبادت کې مشغول او لګيا اوسه !.

تمّت سورة الحجر، ولله الحمد والمنة، وهو المسئول أن يتوفّانا على أكمل الأحوال وأحسنها، فإنه جواد كريم، ملك برٌّ رؤوفٌ رحيم.



سُورَةُ النَّحْلِ

«د (النحل) سورت «مکي» دی، پرته له دوو وروستنيو آيتونو چې «مدني» دي، (۱۲۸) آيتونه او (۱۶) رکوع لري، په تلاوت کې (۱۶) او په نزول کې اويايم سورت دی، وروسته د (الکهف) له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

أَتَىٰ أَمْرُ اللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١﴾

راغی امر (حکم) د الله (په نصرت د مؤمنين او قيام د يوم الدين) نو تلوار مه کوئ تاسې هغه ته (ای کفّارو)، پاکي ده الله ته او لوی (اوچت او پورته) دی له هغه چې دوی شريک ورسره پيدا کوي (له بُتانو او نورو طواغيتوا).

تفسير: يعنې د الله تعالی د دغه حکم د وُقوع وخت قريب رارسېدلی دی، چې «د رسول الله صلی الله عليه وسلم جماعت غالب او منصور ـ او د حق مخالفان به مغلوب او ذليل وي، او هغوی ته به په دنيا کې د مجاهدينو مسلمانانو له لاسونو، او په آخرت کې د ﴿أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ﴾ د دربار له لوري د شرک او کُفر سزا ورسيږي، او د قيامت ساعت هم لرې نه دی»، د هغه شي راتلل چې يقيني وي؛ هغه ښايي راغلی وګڼلی شي، بيا د هغه د ژر غوښتلو ضرورت څه دی؟.

کفّارو به د تکذيب او استهزاء له لارې ويل چې: د هغه عذاب يا د قيامت وعده چې تاسې راسره کوئ؛ ولې ژر نه راځي؟ نو دوی ته يې تنبيه فرمايلې ده چې ستاسې له داسې ويلو څخه هغه لرې کېدونکې نه ده، بلکه په حتمي او يقيني ډول سره هغه ژر راتلونکې ده، هر څومره چې په کې ځنډ (تأخير) هم ولګيږي؛ هغه هم يو شان ستاسې په حق کې مفيد دی، ممکن دی چې دې ضمن کې ځينو ته د اصلاح او د توبې توفيق ور په برخه شي.

يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَىٰ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ أَنْ أَنْذِرُوا أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاتَّقُونِ ﴿٢﴾

نازلوي (الله) ملائکې سره له روح (د وحي) په امر (حکم) خپل پر هر چا چې اراده وفرمايي (د نبوّت يې) له بندګانو خپلو، (او داسې فرمايي انبياوو ته) چې وويرېږئ (خبردار کړئ تاسې خلق) په دې چې بېشکه نشته بر حق معبود مګر همدا زه يم، نو وويرېږئ تاسې له ما نه.

تفسير: يعنې د پرښتو په جنس کې ځينو ته لکه جبرئيل عليه السلام يا «حفظة الوحي» د هغوی په لوري په ﴿فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا﴾ کې يې اشاره کړې ده (۲۹ جزء د الجن سورت (۲۷) آيت (۲) رکوع).

﴿بِالرُّوحِ﴾ سره له روح او اسرارو د وحي، يا سره له نبوّت، يا قرآن چې هر يو له دغو څخه زړونه ته په غير مرئي طريقې د يوې سرې او پټې خبرې په ډول راتله، لکه چې په (۲۴ جزء د المؤمن سورت په (۱۵) آيت دويمه رکوع کې يې فرمايلي دي: ﴿يُلْقِي الرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِ عَلَىٰ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ لِيُنْذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ﴾ او په (۲۵ جزء د الشوری سورت (۵۲) آيت (۵) رکوع کې يې فرمايلي دي: ﴿وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا﴾ د قرآن يا د الهي وحي په «روح» سره تعبير کولو کې دغه اشاره ده، چې همغسې چې مادي اجسامو ته له نفخې څخه ظاهري حيات حاصليږي؛ همداسې هغه قلوب هم چې د جهل او ضلال له ناروغيو څخه مړه شوي دي، د الله تعالی د وحي له رسېدلو څخه ژوندي کيږي.

﴿مِنْ أَمْرِهِ عَلَىٰ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ﴾ هغه بندګان انبياء عليهم السلام دي چې پاک الله هغوی په ګرد مخلوقاتو سم له خپل حکمت او کامل اختيار سره غوره کړي دي، ﴿اللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ﴾ (۸ جزء د الأنعام سورت (۱۲۴) آيت (۱۵) رکوع)، ﴿اللَّهُ يَصْطَفِي مِنَ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا وَمِنَ النَّاسِ﴾ (۱۷ جزء د الحج سورت (۷۵) آيت (۱۰) رکوع).

﴿أَنْ أَنْذِرُوا أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاتَّقُونِ﴾ «داسې چې وويروئ او خبردار کړئ خلق په دې چې نشته هيڅ بر حق معبود مګر همدا زه يم؛ نو ووير ېږئ تاسې له ما نه»، يعنې د توحيد تعليم ـ د شرک تردید ـ د تقوی په لوري دعوت ـ دغه علی الدّوام د ګردو انبياوو عليهم السلام مشترکه او متفقه نصب العين دی، ګواکې دغه د توحيد د اثبات نقلي دليل دی، وروسته له دې نه عقلي دلائل هم بيانيږي.

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۖ تَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٣﴾

پيدا کړي دي (الله) اسمانونه او ځمکې په حق (حکمت او رښتيا) سره، پورته دی (الله) له هغه څه نه چې شريکان يې ورته نيسي دغه (مشرکان).

خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ نُطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُبِينٌ ﴿٤﴾

پيدا کړی دی (الله) انسان لره له نطفې (اوبو د منيو) نه، نو ناڅاپه دغه (انسان) سخت جګړه کوونکی وو ښکاره (په ناحقه سره).

تفسير: يعنې د علويّاتو او سفلياتو د انتظام څخه مو وروسته تاسې پيدا کړئ، تاسې پخپله د خپل خلقت په لوري غور وکړئ ! نو د الله تعالی د عجيبو او غريبو صنعتونو او قدرتونو کارونه به درښکاره شي، ستاسې اصل څه وو؟ يو داسې بې ساڅاکی چې نه په کې حس او حرکت وو، او نه شعور او اراده، او نه د خبرو او کار کولو لايق وو، هغه څه چې د يوه حرف په ويلو قادر نه وو؛ وګوره چې اوس څنګه ښې ويناوې، نطقونه او کانفرنسونه کوي؟ په هغه کې چې لږ ادنی حس او حرکت نه وو؛ اوس څرنګه په هره هره خبره د جګړې کولو ـ او حجّت او دلائل ايستلو قدرت په کې پيدا شوی دی، حتی په ځينو اوقاتو له مخلوقه تېر شوی ـ تر خپل خالق پورې هم خبرې کوي، او د ده په مقابل کې ټينګ دريږي، او احکام يې نه مني، او دا يې هم په ياد ونه ساتله، چې د ده اصل څه وو؟ او دغه طاقت يې څرنګه حاصل کړ؟ او چا ورکړ؟ ﴿أَوَلَمْ يَرَ الْإِنْسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِنْ نُطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُبِينٌ * وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ قَالَ مَنْ يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ * قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنْشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ﴾ (۲۳ جزء د يسين سورت (۷۷، ۷۸، او ۷۹) آيتونه (۵) رکوع).

وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا ۗ لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٥﴾

او چارپايان پيدا کړي دي (الله)، تاسې لپاره (ای انسانانو !) چې شته په دوی کې اسباب د ځان ساتلو (له يخنۍ) او (نورې ډېرې) نفعې، او له ځينو دغو (چارپايانو) څخه خورئ تاسې.

تفسير: يعنې الله تعالی اوښ ـ غويي ـ مېږه (ګاډه) ـ اوزه (بيزه) ـ او نور يې در پيدا کړل، چې د هغو له وړيو او ويښتانو او نورو څخه کمبل ـ چکمن ـ جرابې ـ شړی ـ ټکر (څادر) ـ ټغر ـ لمڅې ـ کيږدی ـ او د يخنۍ نه د ژغورلو (محفوظولو) لپاره ترې نور شيان جوړوئ، برسېره په دې د هغوی شودې څښئ، او د بزګرۍ چارې ترې اخلئ، د غوړيو ـ کوچو ـ کرتو ـ ماستو او شوملو افراط د همدغو حيواناتو له وجوده دی چې تاسې ته لنګيږي، او تاسې پرې سوداګري او کراکښې پرې کوئ، د دوی له څرمنې څخه څرنګه ښه ښه او لوړ قيمته اسباب او سامان تياروئ، د هغوی حيواناتو غوښې چې خورئ په هغو کې هيڅ کوم معتد به بدني يا اخلاقي مضرت نشته، د دوی له غوښې او وازدو څخه

څومره استفاده کيږي؟ او د څومره غريبانو نسونه پرې مړيږي؟ او هغه نور خواړه چې مونږ يې خورو؛ د هغو په تياری کې تر کومه اندازه پورې د دغو حيواناتو دخل شته؟.

وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ ۝٦

او شته تاسې ته په دغو (چارپايانو) کې زيب او زينت کله چې بېرته يې کور ته راولئ لپاره د راحت، او کله چې بهر ته يې د څړ لپاره بيايئ.

تفسير: کله چې مواشي او حيوانات په کورونو کې ولاړ وي، يا په صحراوو کې سره تيت او پرک (خواره واره) او په څړ کې لګيا او له سترګو څخه لرې وي، نو په دغه وخت کې د الله تعالى د انعام داسې ښکاره او صافه مظاهره نه کيږي، څه مهالې چې دوی ګهيځ (سحر وختې) په اوله د ورځې کې د څړ لپاره له کورونو وځي،يا ماښام وروسته د څړېدلو او ګډېدې مړولو له صحراء څخه د کورونو په لوري راځي؛ نو يو عجيبه رونق او خوښي، او ډېره ښه ننداره او خوشالي ترې محسوسيږي، نه يواځې خاوند د خپلو دغه مالونو د ليدلو څخه خوښيږي؛ بلکه نور کسان هم د هغو له ليدلو څخه خوشاليږي، او يو له بله سره وايي چې پاک الله هغه سړي ته څومره دولت او اقبال ورکړی دی.

وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَىٰ بَلَدٍ لَّمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنفُسِ ۚ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ۝٧

او باروي دغه (چارپايان) درانه بارونه ستاسې (او رسوي يې) هغه ښار ته چې نه وئ تاسې رسيدونکي هغه ته مګر په سختۍ مشقت د نفسونو (ځانو) خپلو سره، بېشکه چې رب (پالونکی) ستاسې خامخا لوی شفقت والا ډېر رحم کوونکی دی (چې دغه حيوانات يې هم پيدا کړي دي ستاسو د منافعو لپاره).

تفسير: يعنې چېرې چې تاسې جره بې له اسبابه او سامانه په ډېر مشکل رسېدی شوئ؛ دغه بودګان (ځناور) تاسې او ستاسې درانه درانه اسبابونه هم وړي، دا د الله تعالى څومره لويه مهرباني ده؛ چې دغه حيوانات يې ستاسې د خدمت لپاره خلق او درولي دي، او له دغو څخه د خدمت اخيستلو اجازه يې درکړې ده، څو خپل ډېر او سخت او مشکل مهمّات هم د دغو حيواناتو په وسيله اسان کړئ، ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مَالِكُونَ * وَذَلَّلْنَاهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ وَمِنْهَا يَأْكُلُونَ﴾ (۲۳ جزء د يس سورت (۷۱، ۷۲) آيتونه (۵) رکوع).

وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً ۚ

او (پيدا کړي دي الله) آسونه او قچرې او خره لپاره د دې چې سورېږئ تاسې په دوی باندې او (زينت کوئ پر دغو) په زينت کولو سره.

تفسير: يعنې پرې سورېږئ او شان مو ترې ظاهريږي.

تنبيه: په عربستان کې د خره سورلی معيوبه نه ده، او د هغه ځای خره (ځمونږ د پښتنو د بلخي خرو په شان) ډېر غښتلي، قيمتداره، ګرندي، چالاک او ښکلي دي، حتّى ځينې خره د اس په شان مزل کوي، ډېر او ښه ځغلي.

وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ۝٨

او پيدا کوي (الله ډېر نور) څيزونه چې اوس يې نه پېژنئ تاسې.

تفسير: يعني د هغو حيواناتو (او مرکوباتو) ذکر چې پاس وشو؛ برسېره پر هغه الله تعالى ستاسې د انتفاع لپاره داسې نور شيان هم پيدا کړي او پيدا کوي يې چې له هغو څخه اوس تاسې بې خبره يئ، په دغه کې هغه ګرد د سورلۍ شيان داخل شول چې تر قيامته به جوړيږي.

وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَائِرٌ ۖ

او خاص پر الله دى بيان د لارې (برابرې) او ځينې د لارو څخه کږې مائلې هم دي (له حقه).

تفسير: يعني هغه شانې چې د ځمکې د لارې پرې کولو او د مقصود تر منزل پورې د رسېدلو وسائل يې در برابر کړي دي؛ همداسې تر الله پورې د رسېدلو سمه لاره يې هم در پرانستلې ده، د هر چا چې پوهه او عقل سم وي؛ نو هغه د پاس مذکورو شويو دلائلو او بصائرو کې له غور کولو څخه د الله تعالى پر قدرت او عظمت او جبروت به ايمان راوړي، او د توحيد او تقوى په سمه لاره بې له خرخشې (خطرې) تر الله پورې رسيږي، ليکن د هر چا چې عقل سم نه وي؛ نو پر دغه سم سړک باندې به د تللو توفيق له کومه وموندلى شي؟ دى به تل د اهواوو او اوهامو په پيچدارو لوړو او ژورو کې لالهانده او سرګردانه ګرځي: ﴿وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ﴾ (۸ جزء د الأنعام سورت (۱۵۳) آيت (۱۹) رکوع).

وَلَوْ شَاءَ لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩﴾

او که اراده فرمايلي وى (الله د هدايت ستاسې)؛ نو خامخا سمه برابره لاره به يې ښوولې وه تاسې ټولو ته.

تفسير: يعني الله تعالى له دې خبرې څخه نه دى عاجز؛ چې ګرده (ټوله) دنيا په همغه يوه لاره کې ولګوي، لکن د ده حکمت مقتضي نه دى چې ګرد (ټول) د يوه اصول په اختيارولو باندې مجبور کړي، لکه چې مونږ پخوا له دې نه په متعددو مواقعو کې د هغه تشريح کړې ده.

هُوَ الَّذِي أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لَّكُم مِّنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ ﴿١٠﴾

الله هغه (ذات) دى چې نازلې کړې، رالېږلې (يې) دي له (طرفه د) اسمانه اوبه، چې دي تاسو ته له دې اوبو څخه څښل او (زرغونوي) له دغو اوبو څخه ونه (او واښه) هم چې په دغو وښو کې څروئ تاسې (حيوانات خپل).

يُنبِتُ لَكُم بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ وَالْأَعْنَابَ وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١١﴾

زرغونوي (الله) تاسې ته په دغو اوبو سره کښت (فصل) او زيتون او خرما ګانې او (تاکونه د کورو) انګورو او له هر قسمه مېوو څخه، بېشکه په دغه (زرغونتيا د دغو مذکوره وو اشياوو) کې خامخا لويه نښه (د قدرت) ده لپاره د (هغه) قوم چې فکر کوي (په کې).

تفسير: يعني له يو رنګ اوبو څخه راز راز (قسم قسم) ميوې زرغونوي، چې د هغو شکل او صورت او رنګ او رائحه اوخوند او تاثير بيخي بېل دي، په دغه کې غور کوونکي ته د الله تعالى د کامل قدرت او غريبه صنعت لويې نښې دي، چې له يوې ځمکې، يو لمر، يوې هوا او يوه رنګ اوبو څخه څرنګه ډول ډول ګلان او مېوې تل پيدا کيږي؟.

وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۙ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۗ وَالنُّجُومُ مُسَخَّرَاتٌ بِأَمْرِهِ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿۱۲﴾

او مسخّره کړې يې ده (په کار يې لګولې ده) تاسې ته شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ او ستوري مسخّرې (په کارونو کې لګولي شوي) دي په امر (حکم) د دغه (الله) سره، بېشکه په دغو (علويه وو تصرّفاتو) کې خامخا ډېر دلائل د يووالي د الله تعالى لپاره د (هغه) قوم چې عقل چلوي.

تفسير: شپه او ورځ برابر يو له بله سره نښتې دي؛ څو دنيوي کاروبار پرې وچليږي، او خلق سکون او آرام ترې حاصل کړی شي، همداسې لمر او سپوږمۍ هم تر يوه معيّن نظام لاندې راښکاري او پټيږي، د شپې او د ورځې د دغه تګ او راتګ او د شمس او قمر د دغه ختلو او پرېوتلو سره د انسانانو بېشماره فائدې ترلې دي، بلکه که په غورسره وليده شي؛ نو بې له دغو څخه د انسان ژوند محال دی، الله تعالى پخپل کامل اقتدار سره لمر، سپوږمۍ او نور ګرد ستوري يې د ادنى مزدورانو په شان ځمونږ په کارونو کې لګولي دي، مجال نشته چې دوی لږ څه سستي وکړي، يا غاړه ترې وغړولی شي، ليکن څرنګه چې له لمر او سپوږمۍ سره ځمونږ اړه بالکل په صريح ډول متعلقه ده، او له نورو ستوريو سره ځمونږ د فائدو او مصالحو تعلّق دومره واضح نه دی؛ ښايي د همدې لامله هغه يې ببل کړل، او تر بل عنوان لاندې يې بيان وفرمايل، والله أعلم.

وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴿۱۳﴾

او (مسخر کړي يې دي نور) هغه څيزونه چې پيدا کړي غوړولي دي (الله) تاسې ته په ځمکه کې حال دا چې مختلف دي سره رنګونه (شکلونه او قسمونه) د دوی، بېشکه په دغه (اختلاف د اشکالو، اقسامو، انواعو د مخلوقاتو) کې خامخا دليل دی لپاره د هغه قوم چې پند اخلي.

تفسير: يعنې هغه لوی او لوړ ذات چې اسماني شيان يې ستاسې پکار لګولي دي؛ همغه ستاسې د فائدې لپاره په ځمکه کې هم مختلف قسم نباتات پيدا کړي دي، چې په ماهيت ـ شکل ـ صورت ـ رنګ ـ بوی منافع او خواصو او نورو ګرده کې يو له بل سره بالکل جلا (جدا) او عليحده دي، په دغه کې ګرد حيوانات، نباتات، جمادات، بسائط او مرکبات شامل شول.

وَهُوَ الَّذِي سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا ۖ وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿۱۴﴾

او الله هغه (ذات) دی چې مسخر کړی (په کار يې اچولی) دی بحر لپاره د دې چې وخورئ تاسې له دې (بحره) غوښه تازه، او راوباسئ تاسې (په غوپه وهلو سره) له دغه (بحره) ګانې، چې اغوندئ يې تاسې، او وينې به ته (ای کتونکيه !) بېړۍ رهي (روانه) په دغه (بحر) کې (چې څيروي په تېر خپل اوبه)، او چې طلب کړئ تاسې (رزق) له فضله د دغه (الله)، او لپاره د دې چې شکر وباسئ تاسې (پر دغو نعمتونو).

تفسير: يعنې داسې موج او څپې وهونکی خوفناک سمندر يې هم (چې د هغه په مقابل کې د ضعيف البُنيان انسان بساط هيڅ نه دی) ستاسې په کار کې لګولی دی، چې په هغه کې بې تکلّفه د ماهيانو (کبانو) ښکار کوئ، او ډېره لذيذه او ترو تازه غوښه ترې حاصلوئ، د هغه د ځينو برخو څخه مرغلرې، درمرجان، حجر البحر، او نور راز راز (قسم قسم) پيداوار پيدا کوئ، چې له هغو څخه ډېرې قيمتدارې ګانې او زېورات تياريږي.

نبه ! د سمندر دغو لويو موجو او څپو ته وګورئ ! چې د هغه په مقابل کې د ډېرو لويو لويو جهازونو حقيقت د يوه خس او واښه په شان هم نه دی، ليکن يوه وړوکې کشتی او بېړی څرنګه دغه موجونه څيروي؟ او پرې درومي؟ دا د الله تعالی د قدرت يوه نمونه ده، چې انسان ته يې عقل ورکړی دی، او د داسې شيانو د جوړولو ترکيب يې ورښوولی او پوهولی يې دی؛ چې د هغه په ذريعه سره تاسې پر سمندرونو باندې متصرّف او له يوه سره تر بل سره پورې ځئ.

وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَارًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥﴾

او غورځولي (پيدا کړي) يې دي په ځمکه کې غرونه (مېخونه محکم) لپاره د دې چې ونه ښوريږي پر تاسې باندې، او (پيدا کړي دي الله په دې ځمکه کې) ويالې او لارې لپاره د دې چې لاره وموميئ (خپلو منازلو او مقاصدو ته).

تفسير: يعنې الله تعالی پر ځمکه ډېر درانه لوی لوی غرونه ايښي دي، څو ځمکه د خپل اضطرابي حرکت څخه کراره (قلاره) شي، له رواياتو او آثارو څخه معلوميږي چې ځمکه د خپل خلقت په ابتداء کې مضطربه او بې واکه خوځېده، او در ګرده لړځېده، الله تعالی پر هغې باندې غرونه پيدا کړل، چې د هغو د درونوالي په اثر د ځمکې هغه خوځېدل ورک شول، د نن پرون «ساينس» هم اقرار کړی دی؛ چې د غرونو وجود تر ډېره حده پورې د زلازلو له کثرته مانع دی، په هر حال د ځمکې د هغه حرکت او سکون مسئله چې په حکماوو کې مختلف فيه ده، له هغه سره دا آيت نفيا يا اثباتا هيڅ تعلّق نه لري؛ ځکه چې د غرونو په وسيله کوم حرکت چې بند شوی دی؛ هغه دا وضعي حرکت نه دی، چې په هغه کې اختلاف جاري دی.

وَعَلَامَاتٍ ۚ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ﴿١٦﴾

او (پيدا کړي دي الله په ځمکه کې) علامې، (د لارې) او په ستوريو سره دغه لاره مومي.

تفسير: يعنې غرونه، چينې، ونې، د شګو غونډی، الغرض د مختلفو اقسامو علايم يې قائم کړي دي، چې د هغو په وسيله د مسافرانو قافلې د سمې لارې سراغ او نښه موندلی شي، ما پخپلو سترګو ليدلي چې ځينو اعرابو (بدوانو) د خاورې په بويولو سره د لارو نښې پيدا کړي.

﴿وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ﴾ يعنې د شپې په وخت کې لويو سيندونو او لويو بيابانونو په سفر کې د ځينو ستوريو په ذريعه د لارې درک او طرف معلومولی شي، هغه لارښوونه چې د قُطب نما او نورو آلاتو په وسيله کيږي؛ هغه هم بالواسطه له ستورې سره تعلق لري.

أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لَّا يَخْلُقُ ۗ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٧﴾

آيا هغه (ذات چې هر شی) پيدا کولی شي (چې الله دی)؛ په شان د هغه دی چې نشي پيدا کولی (هيڅ شيز)؟ آيا نو پند نه اخلئ تاسې (چې خالق او مخلوق سره وپېژنئ، او په خالق ايمان راوړئ؟).

تفسير: يعنې فکر کول په کار دي چې دغه څومره حماقت دی، هغه شيان چې د مچ يو وزر يا د ماشي يوه پښه بلکه د اوربشي يوه دانه يا د شګې د يوه بخرکي په پيدا کولو هم قادر نه وي؛ د هغوی معبود او مستعان درول دغه الله قدّوس سره يې برابرول چې د پاس مذکورو عجيبو او غريبو مخلوقاتو هم پيدا کوونکی او د هغوی د محکم نظام هم قائم ساتونکی دی، ډېره لويه بې ادبي ده.

وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۱۸﴾ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴿۱۹﴾

او که وشمېرئ تاسې نعمتونه د الله (چې پر تاسو يې پېرزو کړي دي)؛ نو نه به يې شئ شمېرلئ (نو څرنګه به يې شکر اداء کړی شئ)؟ بېشکه چې الله خامخا ښه بخښونکی ډېر رحم کوونکی دی.
او الله ته معلوم دي هغه (عقائد) چې پټوئ يې تاسې او هغه (اعمال) چې ښکاره کوئ يې تاسې.

وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴿۲۰﴾

او هغه معبودان چې يې بولي (عبادت يې کوي دغه کفار) غير له الله نه؛ نشي پيدا کولی دوی هيڅ څيز حال دا چې دوی پخپله (هم) پيدا کړی شوي دی.

تفسير: يعنې الله خو هغه ذات دی؛ چې د هغه د عظيم الشان او غير محصور انعاماتو څه تذکره پاس وشوه، اوس د مشرکانو حماقت ملاحظه کړئ ! چې د داسې الله عالم الکل او خالق الکل سره داسې شريک نيسي؛ چې نه خو داسې شيان پيدا کولی شي، بلکه آن د وښو د يوه ډکي په پيدا کولو باندې هم قادر نه دي، بلکه پخپله د دوی وجود هم د پاک الله په مشيت او ارادې سره پيدا شوي دي.

أَمْوَاتٌ غَيْرُ أَحْيَاءٍ ۖ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴿۲۱﴾

(دغه معبودان پخپله) مړه دي، نه دي ژوندي، او (په دې هم) نه پوهيږي دغه (معبودان) چې کله به راولاړاوه شي دغه (بُتان يا عابدان يې).

تفسير: يعنې ماسوا د الله تعالی څخه د هغو بُتانو عبادت چې تاسې کوئ؛ هغه ګرد مړه دي، اعم له دې نه چې دواماً وي لکه بُتان، يا في الحال وي لکه هغه بزرګان چې مړه شوي دي او د هغوی طاعت او عبادت کولی شي، يا د انجام او مآل په اعتبار مړه وي؛ لکه مسيح روح القدس او د الله تعالی ملائکې عليهم السلام؛ چې د هغو عبادت به هم ځينو فرقو کاوه، بلکه پيريان او شيطانان (چې ځينې ممسوخ الفطرت د هغوی عبادت هم کوي)، پر دغو ګردو باندې په يوه وخت کې موت طاري کېدونکی دی، نو د هغه شي وجود چې د بل شي څخه عطاء شوی وي، او هغه هر وخت چې وغواړي اخيستی يې شي؛ نو هغه ته څرنګه الله ويلی شي؟ او څرنګه د عبادت لايق کېدی شي؟.

﴿وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ﴾ يعنې دغه خو عجيب معبودان دي، چې له سره نه دي خبر چې قيامت به کله راځي؟ پخپله دغه معبودان يا د دوی عابدان به کله د حساب او کتاب لپاره بيا ژوندي کيږي؟ دغسې بېځايه او بې خبره شيانو ته معبود ويل، انتهايي درجه جهل او حماقت دی.

إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۚ فَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ قُلُوبُهُم مُّنكِرَةٌ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ﴿۲۲﴾

معبود ستاسې معبود يو دی، نو هغه (کسان) چې نه راوړي ايمان په (ژوندانه د) آخرت زړونه د دغو (بې ايمانو) منکر دي (له وحدانيت د رب العزّت او له راتللو د آخرت)، او دوی تکبّر کوونکي دي (له ايمان راوړلو نه).

تفسير: يعنې هغه دلائل او شواهد چې پاس بيان شول، داسې صاف او واضح دي چې په هغو کې له ادنی غور کولو سره هر انسان پر توحيد يقين کولی شي، ليکن ښايي چې غور او طلب هغه څوک وکړي چې ورسره د خپلې خاتمې فکر او د عاقبت وېره وي، او هغه چې د بعد الموت په امورو باندې له سره يقين نه لري؛ نو د آخرې خاتمې په لوري به يې

څه فکر وي؟ هغه پر دلائلو کله غوږ ږدي؟ او د کفر او د ایمان د نېک او بد انجام په لوري به کله التفات کوي؟ بیا په زړونو کې د توحید اقرار او د انبیاوو علیهم السلام د تابعداری خیال کله د دوی په مغزو کې ګرځي؟.

لَا جَرَمَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِينَ ﴿٢٣﴾

رښتیا واقعي خبره داده: بېشکه الله ته معلوم دی هغه (مکر او فریب) چې پټوي یې دوی، او هغه (جنګ او جګړه) چې ښکاره کوي یې، بېشکه چې دغه (الله) نه خوښوي تکبّر کوونکي (سر غړوونکي له وحدانیت او رسالت او آخرت).

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ مَاذَا أَنْزَلَ رَبُّكُمْ ۙ قَالُوا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾

او کله چې وویلی شي دغو (متکبّرانو) ته څه شی دی هغه چې نازل کړی لېږلی دی رب ستاسې (په محمد باندې)؟ نو وایي دوی (دغه) خوشې افسانې د پخوانیو (خلقو) دي.

تفسیر: یعنې که ناواقفه سړی د تحقیق په غرض ـ یا واقف سړی امتحاناً له دغو مکذبینو څخه پوښتنې کوي، یا دغه مکذبین پخپلو منځونو کې یو له بل سره د تمسخر او استهزاء په ډول سوال کوي: «ووایئ ستاسې رب څه شی نازل کړی دی؟» مطلب یې دا دی چې دغه قرآن چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې د پاک الله له لوري منزّل بولي؛ ستاسې په نزد څه شی دی؟ او محمد صلی الله علیه وسلم په دغه دعوی کې تر کوم ځای پورې صادق دی؟ نو دوی وایي: (معاذ الله) په قرآن کې نور څه شته؟ ماسوا له دې نه چې د پخوانیو کتابونو او پخوانیو ملتونو څه قدیمي بې سنده (د توحید ـ نبوّت ـ جنّت ـ دوزخ ـ او نورې) خبرې (استغفر الله) او څو قصې په کې نقل شوي دي، او نعوذ بالله له سره د پاک الله کلام نه دی.

لِيَحْمِلُوا أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۙ وَمِنْ أَوْزَارِ الَّذِينَ يُضِلُّونَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ أَلَا سَاءَ مَا يَزِرُونَ ﴿٢٥﴾

(نو الله فرمایي) لپاره د دې چې په شا واخلي پټې (د ګناهونو) خپلو پوره په ورځ د قیامت کې او (همداسې واخلي) له پټې (د ګناهونو) د هغو (کسانو) چې ګمراه کړي دي دوی هغوی لره په ناپوهی، واورئ خبردار شئ چې بد دی هغه څیز چې باروي یې دوی (پر شاګانو خپلو).

تفسیر: یعنې له دغې وینا څخه دغه غرض دی؛ چې معاذ الله لوی قرآن بې وقعته او بې اهمیته ښکاره کړي، او خپل نور ملګري هم بې لارې کړي، او په دې ډول سره د خپل کفر او ضلال له پوره درانه پټې سره د هغو خلقو د اضلال او اغواء څه نور بار هم پرې بار کړي چې دوی یې ګمراهان کوي، خیال وکړئ چې دوی د بدې څومره یو درونده بار پخپلو سرونو باندې بار کړی دی؟.

قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُمْ مِنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾

په تحقیق مکر کړی وو (له رسولانو سره) هغو (کسانو) چې (تېر شوي) دي پخوا له دوی نه؛ نو راغی (حکم د) الله (په خرابولو او چپه کولو) د بناګانو د دوی له تاداوونو، نو پرېوت پر دوی چت (د کوټو د دوی) له پاسه د دوی، او راغی دوی ته عذاب له هغه طرفه چې نه پوهېدل دوی (پرې چې له دې طرفه به راځي عذاب).

تفسير: يعنې د خلقو ګمراه کولو او د حق د پيغام د نښته کولو او نه رسولو کوم تدابير چې نن ورځ کيږي، له دوی نه پخوا ډومبنيو اقوامو هم د انبياوو عليهم السلام په مقابل کې همداسې تدابير کړي وو، هغوی د مکر او تلبيس ډېر لوی عمارات درولي وو، بيا څه مهال چې د الله تعالی حکم ورسېد؛ نو د هغه نيول د دوی بنيادونه هم سره وخوځول، بالآخر د الله تعالی په يوه خوځولو سره د دوی دغه تيارې شوې مانۍ او محال پر همدغو باندې داسې ولوېدې چې دوی د هغه تر چت لاندې بند پاتې شول، مطلب دا چې د دوی دغه تدابير پر همدوی واوښتل، او هغه سامان او وسائل چې دوی د خپلې غلبې او حفاظت لپاره تيار کړي وو؛ د دوی د فناء او هلاک سبب وګرځېدل، بلکه د ځينو اقوامو ښارونه او کلي په حسّي ډول سره هم لاندې باندې کړل شول.

ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُخْزِيهِمْ وَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِينَ كُنتُمْ تُشَٰٓقُّونَ فِيهِمْ قَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ إِنَّ الْخِزْيَ الْيَوْمَ وَالسُّوٓءَ عَلَى الْكَٰفِرِينَ ﴿٢٧﴾

بيا په ورځ د قيامت کې به (الله وشرموي) رسوا کړي دوی او وبه فرمايي (الله) چې: چېرته دي شريکان ځما (په زعم ستاسې سره) هغه چې وئ تاسې چې مخالفت به مو کولو (له انبياوو او مؤمنانو سره) په باب د دوی کې؟ وبه وايي هغه کسان چې ورکړی شوی دی دوی ته علم (يعنې ملائک ـ انبياء ـ علماء) چې: بېشکه خواري د نن ورځې او بدي يې پر کافرانو ده.

تفسير: يعنې د هغو شرکاوو په مرسته او حمايت چې تاسې تل ځمونږ له انبياوو سره جنګ او جګړې کولې؛ هغوی نن چېرې دي؟ او ستاسې د مدد لپاره ولې نه راځي؟.

﴿هَلْ يَنصُرُونَكُمْ أَوْ يَنتَصِرُونَ﴾ (۱۹ جزء د الشعراء سورت (۹۳) آيت (۵) رکوع).

﴿فَمَا لَهُ مِن قُوَّةٍ وَلَا نَاصِرٍ﴾ (۳۰ جزء د الطارق سورت (۱۰) آيت (۱) رکوع)، دغسې وينا سره په واقع کې د هغوی شرمول او رسوا کول مراد دي، او د دوی د پټو مکاريو پرده لرې کول دي.

﴿إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُۥ﴾ (۴ جزء د آل عمران سورت (۱۹۲) آيت (۲۰) رکوع).

﴿قَالَ الَّذِينَ﴾ الآية ـ يعنې هغوی به څه ځواب ورکړی شي؟ هو ! انبياء عليهم السلام او نور باخبره خلق به په دغه وخت دغو مکارانو او دغا بازانو ته دغه خبره اوروي چې وګورئ ! هغه شيان چې مونږ به ويل همغسې وشو، او د نن ورځې ګردې خرابۍ او رسوايۍ يواځې د حق د منکرينو لپاره دي.

الَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ الْمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمْ فَأَلْقَوُا السَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِن سُوٓءٍ بَلَىٰٓ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾ فَادْخُلُوٓا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَا فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٢٩﴾

هغه (کافران) چې قبضوي (ارواح د) دوی ملائکې په دې حال کې چې ظلم کوونکي دي دوی په نفسونو ځانونو خپلو (په کفر سره)، نو وړاندې به کړي روغه (اطاعت او وبه وايي) نه وو مونږه چې عمل به مو کولو د هيڅ قسم بدی، (نو وبه فرمايي الله): بلکه کولو تاسې معصيت بېشکه چې الله ښه عالم دی په هغه څه چې وئ تاسې چې کول به مو (په دنيا کې). (نو وبه ويلی شي دغو ظالمانو ته) چې ننوځئ اوس تاسې په دروازو د دوزخ کې چې همېشه اوسئ په هغه کې؛ نو خامخا بد ځای د هستوګنې د متکبّرانو (دا دوزخ دی).

تفسير: يعنې کفر او شرک يې اختيار او پخپل حق کې يې خرابي وکړه، آخر په دغه حالت کې د موت پرښتې د دوی د روح کښلو لپاره راغلې، خلاصه دا چې خاتمه يې د کفر او شرک په حالت کې وشوه، العياذ بالله، نو په دغه وخت کې به دغه ظلام (وړاندې به کړي روغه او اطاعت او وبه وايي: نه وو مونږه چې عمل به مو کولو د هيڅ قسم بدئ)، يعنې په دغه وخت کې به د دوی ګرد تکبر، لويي او ځانمني (خودنمايي) لرې شي، او له هغو ګردو شرارتونو او بغاوتونو څخه چې دوی په دنيا کې کول؛ ځان ناګاره او بېخبره اچوي، او ټپ ترې منکريږي، او د اطاعت او وفاداری اظهار به کوي، او وايي به چې: مونږ له سره کوم خراب حرکت نه دی کړی، او تل ځمونږ افعال او حرکات ښه وو.

﴿يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ جَمِيعًا فَيَحْلِفُونَ لَهُ كَمَا يَحْلِفُونَ لَكُمْ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ عَلَىٰ شَيْءٍ ۗ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْكَاذِبُونَ﴾(۲۸ جزء د المجادله سورت (۱۸) آيت دربمه رکوع).

هر کله چې دغه ظالمان د خپلو ښو کارونو مدعيان شي؛ نو وبه فرمايي الله په تردید د دې ويناوو د دوی چې دروغ مه وايئ، يعنې آيا تاسې په دروغ ويلو سره پاک الله غولوئ؟ چې د ده په محيط علم کې ستاسې ګرد حرکات دي، نن ستاسې هيڅ يو مکر او فريب د الله تعالى له سزا څخه نه پاتې کيږي، اوس هغه وخت راغلی دی؛ چې تاسې په کې د خپلو اعمالو خوند وڅکئ.

﴿وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا مَاذَا أَنْزَلَ رَبُّكُمْ ۚ قَالُوا خَيْرًا ۗ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۚ وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ ۚ وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِينَ ۝﴾

او وبه ويل شي هغو کسانو ته چې ځان يې ساتلی له شرکه (او ويريږي له الله) چې څه څيز دی هغه چې نازل کړی دی رب ستاسې؟ نو وايي دغه (مؤمنان) چې خير، شته هغو کسانو ته چې نيکي يې کړېده (په ايمان راوړلو سره) په دغه دنيا کې نېکه جزا (چې عزت او نصرت دی)، او خامخا کور د آخرت (جنّت) خير غوره دی (له دنيا او ما فيها څخه)، او خامخا ډېر ښه سرای د پرهېزګارانو دی.

تفسير: دغه د مستکبرينو په مقابل کې يې د متّقينو (پرهېزګارانو) حال بيان فرمايلی دی، چې کله د هغوی څخه د لوی قرآن په متعلق پوښتنې کيږي چې ستاسې رب څه شی نازل کړی دی؟ نو له نهايتې ښې عقيدې او آدابو به ووايي چې: «ځمونږ پاک الله داسې نېکه خبره رانازله کړې ده؛ چې له سره تر پايه پورې په کې خير او برکت دی»، داسې خلقو لره دې معلوم وي، چې دوی خورا (ډېر) ښه کار کوي، په دنيا کې به د همغې نېکۍ خوندوره ثمره ورسيږي، او د الله تعالى په دربار کې د هيڅا محنت او د يوې ذرې قدر نيکي هم نه ضايع کيږي، او خامخا سرای د آخرت (جنت) ډېر غوره خير دی له دنيا او ما فيها نه.

﴿جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَاءُونَ ۚ كَذَٰلِكَ يَجْزِي اللَّهُ الْمُتَّقِينَ ۝﴾

جنتونه دي د همېشه اوسېدلو چې ننوځي به دوی (په) هغو کې، چې بهيږي به له لاندې (د ونو او مانيو) د دوی (څلور قسمه) ويالې، چې وي به (تل) دوی ته په دغو باغونو کې هر هغه (نعمتونه) چې غواړی يې دوی، په شان د دغې (جزاء) جزاء ورکوي الله پرهېزګارانو ته.

تفسير: يعنې د آخرت د ښېګڼو او نعمتونو پوښتنه څه کوئ، چې هلته دومره حسنات او نعماء شته چې د هغو د ډېر يو وړوکي نعمت په مقابل کې د دنيا خورا (ډېر) لوی نعمت هيڅ دی، جنتيان چې هر قسم جسماني او روحاني مسرّت وغواړي؛ هلته به ور رسي: ﴿وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ ۖ وَأَنْتُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴾.

الَّذِينَ تَتَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَامٌ عَلَيْكُمُ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٣٢﴾

هغه (کسان) چې قبضوي ارواح د دوی ملائکې په دې حال کې چې پاک دي دغه (متقین له شرکه او معصیته)؛ وایي به دغه (ملائک دوی ته چې) سلام دې وي پر تاسې باندې، ننوځئ ! جنت ته په سبب د هغو نېکیو چې وئ تاسو چې عمل به مو کولو (په دنیا کې).

هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا أَنْ تَأْتِيَهُمُ الْمَلَائِكَةُ أَوْ يَأْتِيَ أَمْرُ رَبِّكَ

آیا انتظار کوي دغه (کفّار، بلکه نه کوي د هیڅ شیز) مګر د دې چې راشي دوی ته ملائکې (د عذاب لپاره د قبض الروح) یا راشي ورته امر (حکم) د رب ستا (لپاره د اهلاک د دوی)؟.

تفسیر: یعنې دغه خلق د دې خبرې انتظار کې دي؛ څه مهال چې پرښتې د دوی د روح قبضولو لپاره راشي، یا د الله تعالی له حکمه سره موافق قیامت قائم شي، یا د مجرمینو د جزا ورکولو حکم ور ورسیږي، او په موچنو او پنو د دوی سر وواهله شي؛ نو هلته به ایمان راوړي، او خپل حال به اصلاح کړي، حال دا چې د هغه وخت ایمان یا توبه او رجوع به له سره نافع نه وي، بهتر خو دا دی چې پخوا له موته د بعد الموت لپاره تیاری وشي ! او پخوا د عذاب له راتګه (راتلو) د نجات تدبیر وشي !.

كَذَٰلِكَ فَعَلَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللَّهُ وَلَٰكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٣٣﴾ فَأَصَابَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا عَمِلُوا وَحَاقَ بِهِمْ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٣٤﴾

په شان د دغې (کفر او تکذیب) کړی وو (شرک او تکذیب) هغو کسانو چې پخوا له دوی تېر شوي وو، (پس رسېدلی وو دوی ته هغه شی چې رسېدلی وو هغوی ته)، او نه وو ظلم کړی پر دوی الله (په اهلاک سره)، ولیکن وو دوی چې په نفسونو (ځانونو) خپلو باندې یې ظلم کولو (په کفر او معاصیو). نو ورسېده دوی ته جزاء د هغو بدیو چې کړی وو دوی، او احاطه وکړه (چاپېر شو) پر دوی هغه (موعود عذاب) چې وو دوی چې په هغه (عذاب پورې) به یې مسخرې کولې.

تفسیر: پخواني معاندین هم د همداسې غرور او غفلت په نشو کې لویدلي وو، او په باطل خوښولو کې بوخت (مشغول) او لګیا وو، او تمادي یې په کې کوله، او د توبې په وخت کې یې توبه ونه ایستله، او تر آخره پورې د انبیاوو علیهم السلام پر تکذیب او مخالفت ټینګ ولاړ وو، او د هغوی پر خبرو به یې خندل، او مسخرې به یې کولې، بالآخر څه یې چې کړي وو، همغه یې په مخه کې ورغلل، او جزاء یې وموندله، هغه عذاب او نور شیان چې دوی پرې مسخرې کولې؛ پخپلو سترګو یې ولیدل، د دوی هغه مسخرې او خندا معکوساً (الټه) پر همدوی واقع شوې، او هیڅ یوه د تېښتې لاره یې ونه مونده چې پرې چېرې وتښتي، او د خپلو شرارتونو او سرکښیو سزا یې وموندله، او هغه یې ورېبل چې کرلي یې وو.

وَقَالَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا عَبَدْنَا مِنْ دُونِهِ مِنْ شَيْءٍ نَحْنُ وَلَا آبَاؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ دُونِهِ مِنْ شَيْءٍ

او وویل هغو کسانو چې شرک یې اختیار کړی وو: که اراده فرمایلې وی الله؛ نو عبادت به نه وو کړی مونږ غیرله دغه (الله) د هیڅ شیز، (نه) مونږه او نه پلرونو ځمونږ، او نه به حرام کړی وو مونږ بې له حکمه د دغه (الله) هیڅ شیز.

تفسیر: له دې ځایه وروسته د هغو باطلو اعذارو او چتي (بېکاره) او مهملو خبرو او دلائلو تردید شروع کیږي؛ چې مشرکینو هغه د خپل شرک او مشرکانه اعمالو د جواز او استحسان د ثابتولو لپاره وړاندې کول.

خلاصه یې دا ده: که د غیر الله عبادت یا د ځینو حیواناتو (لکه بحیره ـ سائبه او نور) حرامول داسې بد او بې سنده خبرې او چارې وی چې بیخي پاک الله نه خوښولې؛ نو الله به مونږ نه پرېښودو چې یې وکړو، او هر کله چې مونږ د الله تعالی له مرضی څخه مخالف کار کولو؛ نو خامخا به پاک الله مونږ له هغه څخه منع کولو، یا به یې مونږ ژر تر ژره په سزا رسولو، کله چې داسې نه کیږي؛ نو دغه د دې خبرې دلیل دی چې دغه چارې د الله تعالی خوښې دي.

د الأنعام سورت په (۱۴۸) آیت (۱۸) رکوع د ﴿سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ﴾ الآیة ـ تر آیت لاندې ځمونږ د دغه مبارک تفسیر کوم تقریر چې مونږ کړی دی، په هغه کې د مشرکینو دغه شبهه او د هغو مفصل ځواب بیان شوی دی، ښایي چې هغه دې بیا هلته ولوستل شي.

كَذَٰلِكَ فَعَلَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ فَهَلْ عَلَى الرُّسُلِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿٣٥﴾

په مثل د دغه (عمل) کړی وو هغو کسانو چې پخوا له دوی (تېر شوی) وو، نو آیا شته پر رسولانو (بلکه نشته پرې هیڅ) مګر رسونه ښکاره (چې سمه صافه لاره خلقو ته وروښیي).

تفسیر: یعنې د مشرکینو دغه وینا غلطه ده، چې ځمونږ دغه اعمال د الله تعالی له لوري نه دي ممنوع شوي، ځکه چې د خلقت له ابتداء څخه تر نن ورځې پورې له ضرورت او مصلحت سره موافق پاک الله انبیاء علیهم السلام لیږلي دي، چې د هغوی کار او وظیفه همدغه وه چې خلق له شرکیه وو اعمالو او له شرک او کفر څخه منع کړي، او په ښکاره او صاف ډول سره اعلان وکړي چې کوم کوم اعمال د پاک الله خوښ او پرې رضا دی؟ کوم کوم افعال یې نه دي خوښ؟ او له دوی ځنې به د هر یوه انجام څرنګه وي؟.

باقي دغه خبره چې خلق یې ولې په تکویني ډول مجبور ونه ګرځول چې له سره یې د بدی اختیار نشوی اختیارولی؟ نو دغه خبره د الله تعالی له حکمته سره منافي وه، لکه چې مونږ دغه خبره په متعددو مواضعو کې لیکلې ده، پاتې شوه دغه خبره هر هغه څوک چې د انبیاوو خبرې ونه مني؛ ښایي چې هغه ته سم د لاسه سزا ورکړه شي، نو ډېرو اقوامو ته په دنیا کې سختې عبرتناکې سزاوې هم ورکړی شوي دي، لکه چې په پخواني آیت کې مذکور دي، هو ! عقلاً او نقلاً دغه خبره ضروري نه ده چې د جُرم له ارتکاب سره فوراً سزا ورکړه شي، او مجرم ته د یوې شېبې (ساعت) لپاره هم مهلت ورنه کړ شي، او نه ورته د توبې او اصلاح لپاره کومه موقع او فرصت ورکړ شي.

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ هَدَى اللَّهُ وَمِنْهُم مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلَالَةُ ۚ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٦﴾

او خامخا په تحقیق لیږلي وو مونږ په هر (پخواني) امت کې یو رسول (چې ووایي دوی ته) چې عبادت وکړئ (یوائې) د الله، او ځان وساتئ تاسې له شریرانو (باطلو معبودانو) څخه، نو ځینې له دوی هغه وو چې ورته هدایت وکړ (لاره وروښوده) الله، او ځینې د دوی هغه وو چې ثابته شوه پرې ګمراهي (نو قبول یې نه کړل احکام د رسولانو)، نو وګرځئ تاسې په ځمکه کې (ای مشرکانو !) نو وګورئ چې څرنګه وو عاقبت (آخره خاتمه) د دروغجن ګڼونکو (د انبیاوو؟).

تفسیر: یعنې پخپل وخت کې مو په هر امت کې او قوم پخوانیو کې یو رسول مبعوث کړی دی، بیا په آخر کې یې رسول الثقلین، سید الکونین «صلی الله علیه وعلی آله وصحبه أجمعین» را مبعوث کړ.

تنبيه: له دغه آيت څخه دا نه لازميږي چې په هر قوم او هر کلي کې دې بلاواسطه يو رسول لېږلی شوی وي، کېدی شي چې يو نبي په يو قوم کې مبعوث کړی شي، او د ده نائب چې ورته «هادي» او «نذير» ويلی شي؛ په نورو اقوامو کې ولېږلی شي، د هغه ورلېږل ګواکې بالواسطه د هغه رسول لېږل دي، والله أعلم.

«طاغوت» شرير فتنه اچوونکی، فساد خوښوونکی، د شاه صاحب په وينا «هغه دی چې په ناحقه سره د سرداری او مشرتوب دعوی وکړي، او هغه هيڅ يو سند يې په لاس کې نه وي، نو داسې سړي ته «طاغوت» وايي، بت، شيطان، لوی ظالم ګرد په دغه کې داخل دي».

إِن تَحْرِصْ عَلَىٰ هُدَاهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَن يُضِلُّ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ ﴿٣٧﴾

که ته ډېر حرص وکړې (ای محمده !) پر هدايت (لاره ښوونه) د دوی؛ نو بېشکه چې الله نه ښيي لاره (د هدايت) هغه چا ته چې ګمراه کوي (يې)، او نه به وي دغو ګمراهانو ته هيڅ له مددګارانو (مانع له عذابه).

تفسير: يعنې پاک الله هر هغه څوک چې د قصور د استعداد يا د بد اختياری په بناء ګمراه (بې لارې) کړی وي؛ هغه ته هيڅوک د هدايت لاره نشي ښودلی، او نه يې هيڅوک د الله تعالی له سزا څخه ژغورلی (بچ کولی) شي، ستاسې دغه ډېره طمعه او زيات حرص هم د دوی د هدايت په نسبت، هيڅ فائده نشي رسولی، نو بيا تاسې د دوی په فکر او غم کې ولې دومره زيات خپل ځان کړوئ؟ او ولې خپل سر دومره زيات ورپسې ګرځوئ؟ .

وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَا يَبْعَثُ اللَّهُ مَن يَمُوتُ ۚ بَلَىٰ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٨﴾

او قسمونه کوي دوی پر الله په سختو غليظو قسمونو خپلو چې بيا به نه کړي ژوندی الله هغه څوک چې (يو ځلې) مړ شي، (الله فرمايي په تردید د دوی کې) بلکه ژوندی به يې کړي (ځکه چې وعده يې کړې ده) په داسې وعده کولو چې لازمه ده پرې (وفا يې تفضّلاً) وعده حقه، وليکن ډېر د خلقو نه پوهيږي (په دغه بعث بعد الموت).

لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي يَخْتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّهُمْ كَانُوا كَاذِبِينَ ﴿٣٩﴾

لپاره د دې چې بيان (او ښکاره) کړي الله دوی ته هغه (حشر او نشر) چې جګړې کوي دوی په هغه کې، او (بل) د دې لپاره چې پوه شي هغه کسان چې کافران شوي دي (په دې خبره چې) بېشکه دوی وو دروغجنان (په دې انکار کې له قيامته).

تفسير: يعنې د معاد (قيامت) راتګ عين حکمت دی، که وروسته له مرګه بل ژوندون نه وي؛ نو په دنيا کې هغه مختلف اعمال او احوال چې موندلی شي؛ د هغو صاف او مکمل نتائج به څرنګه ظاهريږي؟ د دغه ځای د جګړو قاطعه فيصله خو هم هغلته کيږي، او هلته به منکرينو ته معلوم شي چې د هغو خبرو انکار چې په قسمونو سره دوی کاوه؛ هغه بيخي صحيح او رښتيا وي، او قسم خوړونکي دروغجنان وو.

إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْنَاهُ أَن نَّقُولَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٤٠﴾

بېشکه همدا خبره ده، چې خبره ځمونږ کوم څيز ته کله چې اراده وکړو (د پيدا کولو) د هغه دا ده چې ووايو هغه ته چې (پيدا) شه؛ نو (پيدا) شي (نو د مړو بيا ژوندي کول هغه ته څه مشکل دي).

تفسير: يعني له دې نه مقصد يواځې هم دغومره خبره ده، چې د الله تعالى له ارادې څخه د يوې ثانيې لپاره هم د مراد تخلّف نشي کېدى.

وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾ الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٤٢﴾

او هغه کسان چې هجرت يې کړى دى په (لاره د) الله کې وروسته له هغه چې ظلم پرې وکړى شو؛ نو خامخا ځاى به ورکړو مونږ دوى ته په دنيا کې ښه (ځاى)، او خامخا اجر ثواب د آخرت ډېر لوى دى، که وى دغه (کفار) چې پوهېدى (په ثواب د هجرت؛ نو دوى به هم ورسره موافقت کړى وى په ايمان يا) که وى دغه (مهاجرين) چې پوهېدى (پخپل هغه لوى اجر؛ نو لا ډېر کوښښ او صبر به يې کولو). (او مهاجرين) هغه کسان دي چې صبر يې کړى دى (په طاعت او په مصيبت) او خاص پر رب خپل توکل کوي.

تفسير: يعني د مجازاتو د سلسلې لپاره «بعث بعد الموت» ضروري دى، د الله تعالى ښه وفادار بندګان چې په دغې دنيا کې ډېر مصائب او شدائد تيروي او بيا مري؛ نو آيا د دوى دغه قرباني ضايع کېدى شي؟ له سره به نه ضايع کېږي !. هغه چې د حق حمايت وکړ، او د الله تعالى رضاء يې وغوښته، او د ظالمانو د ظلم او ستم په انواعو يې صبر او حوصله وکړه، تر دې حده پورې چې مجبوراً خپل کور، خپلوان، کهول، دوستان، عزت آشنايان، راحت او ګرد شيان يې د الله تعالى په لاره کې پرېښودل؛ نو دوى ته به د هغوى د محنت او وفادارۍ صله يقيناً ورسېږي، اول هغه کسان چې له دوى ځنې ژوندي پاتې کېږي؛ نو په همدغې دنيا کې د خپلو قربانيو لږ څه ثمره مومي، او خوند يې څکي، يعني خپل کور کهول پرېښوونکو ته د هستوګنې نور ډېر ښه ځاى ورکاوه کېږي، له هغه کوره ښه کور، له وطني ورونړو څخه ډېر مهربانه خواخوږي نور ورونه، له روزي څخه يې بهتره روزي، له عزته يې ښه عزت وررسېږي، بلکه پر هغو خلقو غالب کېږي، چې دوى يې له وطنه ايستلي دي.

تنبيه: د آيت پر عمومو الفاظو مونږ نظر اچولى دغه تقرير مو وکړ (وهو منقول في روح المعاني عن بعضهم) عامو مفسرينو دغه آيت د هغو اتياوو (۸۰) اصحابو رضي الله تعالى عنهم اجمعين په حق کې ايښى دى، چې د مکې معظمې د کفارو له ظلم او تيري څخه په تنګ شوي وو، او رومبى يې (حبشستان) په لوري هجرت کړى وو، ځکه چې د اکثرو په نزد دغه آيت مکي دى، چې د مدينې منورې له هجرته څخه پخوا نازل شوى دى، دغو مهاجرينو ته بالآخر پاک الله د هستوګنې ډېر ښه ځاى په (مدينې منورې) کې ورکړ، رضي الله عنهم، ورضوا عنه.

﴿الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ﴾ يعني له هيڅ راز (قسم) ظلم او تيري څخه ونه ويرېدل، او د محبوب وطن او د ګرانو خپلوانو او اقاربو د بېلتانه پروا يې ونه کړه، او د الله تعالى د خوښې او رضاء له لارې څخه ونه ښوييدل، او له ګردو څخه يې وشکاوه، او خپله علاقه يې يواځې له پاک الله سره ونښلوله، او خالص د الله پر امداد او قاطعه وو مواعيدو يې اعتماد وکړ، تر هغه پورې چې ويې ليد، هر څوک چې خپل ځان پاک الله ته سپاري، نو پاک الله به څرنګه پرې خپل لطف او کرم نه مبذولوي؟.

وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُوحِي إِلَيْهِمْ فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٤٣﴾ بِالْبَيِّنَاتِ وَالزُّبُرِ وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٤﴾

او نه وو لېږلي مونږ پخوا له تا نه (اى محمده) مګر سړي (ستا په شان له انسانانو) چې وحي به کوله مونږ دوى ته، نو پوښتنه وکړئ تاسې له اهل الذکر (خاوندانو د ياد يعني له علماوو او پوهانو يا له

اهل الکتاب نه) که یئ تاسې چې نه پوهېږئ. (لیږلي وو مونږ دغه رسولان) په ښکاره وو معجزو او په کتابونو سره، او نازل کړی دی مونږ تاته ذکر قرآن (یو) لپاره د دې چې بیان کړې ته خلقو ته هغه چې نازل شوی دی (په دې قرآن کې) دوی ته، او (بل لپاره د دې) چې ښاییږي دوی فکر او غور وکړي (په کې چې دغه کلام الله دی).

تفسیر: یعنې د انبیاوو الله علیهم السلام مظلومانو ملګریو ته چې د صبر او توکل په لاره ثابت قدم وي؛ په دواړو دارینو کې بری او کومک ورکول ځمونږ کوم نوی عادت نه دی، پخوا له دې نه هم مونږ په پخوانیو انسانانو کې رسولان لیږلي دي، چې د هغو کار دا وو؛ چې د الله تعالی له احکامو او د نېکۍ او بدۍ له انجامو خلق خبردار کړي، اوس که تاسې ته دغه خبره نه ده معلومه، نو له هغو پوهانو څخه چې د پخوانیو امتونو پر حالاتو او د هغوی د انبیاوو پر تاریخي معاملاتو علم لرونکي؛ تحقیقات وکړئ ! چې آیا په رښتیا سره په تېرو پېړیو کې څه مقدّس انسانان د نبوّت پر لوی منصب فایض شوي دي؟ او سره له بیناتو (معجزاتو) او کتابونو مبعوث شوي دي؟ که نه؟ او دغه چې آیا د هغو د مصدقینو او مکذبینو خاتمه او انجام څرنګه شوی دی؟ او اهل الحق د صبر او توکل په برکت څرنګه منصور او کامیاب شوي دي؟ او ظالمان معاندان وروسته د حجّت له اتمامه څنګه پنا شوي دي؟ . ﴿وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُوا۟ ۖ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُۥ وَمَا كَانُوا۟ يَعْرِشُونَ﴾ (۹ جزء د الأعراف سورت (۱۳۷) آیت (۱۶) رکوع).

مونږ له ﴿أَهْلَ الذِّكْرِ﴾ څخه خاص اهل الکتاب نه دي مراد کړي، بلکه د لفظ د عموم رعایت مو کړی دی، چې په هغه کې اهل الکتاب هم شامل دي، محمود الحسن شیخ الهند (رحمه الله تعالی) هم د «أهل الذکر» ترجمه د یاد په خاوندانو کړېده، او ښایي چې په هغه سره یې دې لوري ته اشاره کړي وي.

﴿وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ الذِّكْرَ﴾ الآیة ـ یعنې د رسول الله کار د قرآن احکام په ښکاره او واضح ډول بیانول دي، او د خلقو کار دا دی چې په هغه کې غور او فکر وکړي.

له ذکر څخه قرآن عظیم مراد دی، چې پخوانیو امتونو د ضروریه وو احوالو او شرائعو محافظ او د پخوانیو انبیاوو د علومو جامع او د تل لپاره د الله تعالی د احکامو او د دارینو د فلاح د طریقو باور کوونکی او د غفلت له خوبه ویښوونکی دی، مطلب یې داسې شو: «همغسې چې پخوا له دې نه رسولان لیږلي شوي دي، او کتابونه نازل شوي دي؛ نن تاته هم مونږ همداسې کتاب درلیږلی دی، چې د ګردو پخوانیو کتابونو خلاصه او د سابقینو انبیاوو علیهم السلام د علومو مکمل یاداشت دی، ستاسې کار دا دی چې «د دنیا ګردو (ټولو) خلقو ته د دې کتاب ټول مضامین په صاف او ښکاره ډول بیان کړئ، او د هغه د مشکلاتو شرح او د مجملاتو تفصیل وفرمایئ»، له دې نه معلوم شو چې د پاک قرآن همغه تفسیر معتبر دی؛ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له احادیثو سره موافق وي.

أَفَأَمِنَ الَّذِينَ مَكَرُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَخْسِفَ ٱللَّهُ بِهِمُ ٱلْأَرْضَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٤٥﴾

آیا نو په امن کې شوي دي هغه کسان چې مکرونه یې کړي دي ناکاره؛ له دې نه چې ډوب به کړي الله دوی په ځمکه یا چې را به شي دوی ته عذاب له داسې طرفه چې نه پوهیږي دوی (پرې چې له دې طرفه راځي)؟.

تفسیر: یعنې د پخوانیو انبیاوو او د دوی د امتونو د احوالو د اورېدلو او د قرآن عظیم الشأن په شان د داسې مکمّل ذکر او یاداشت د رسېدلو څخه وروسته هم آیا د مکې معظمې کافران د حق په مقابل کې د خپلو مکاریو او فریبونو نه مخ نه ګرځوي؟ آیا د دې خبرې امکان نشته چې الله تعالی دوی د (قارون) په شان په ځمکه کې ډوب کړي، یا له داسې

يو جانب څخه کوم آفت پرې وليږي چې د دوی په وهم او ګمان کې هم نه وي، لکه چې د «بدر» په غزوه کې کفارو ته د مسلمانانو له لاسه داسې سزا ورسېده؛ چې دوی د خپل قوت او جمعيت او د مسلمانانو د ضعف او قلّت په ملحوظ د هغه تصوّر هم نه وو کړی.

أَوْ يَأْخُذَهُمْ فِي تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٤٦﴾

يا له دې چې ونيسي (الله) دوی لره په وخت د ګرځېدلو د دوی (په ځمکه) کې، نو نه دي دوی عاجز کوونکي (د الله).

تفسير: يعنې د دې خبرې هيڅ ضرورت نشته چې له پخوا څخه څه اهتمام وکړی شي، يا د مقابلې لپاره څه افواج ولږلی شي، پاک الله پر دغه هم قادر دی چې تاسې په تګ او راتګ او په کاروبار کې يا پخپلو بسترو په وخت د اوښتلو له يوه اړخ څخه بل اړخ ته يو ځلي ونيسي، او بالکل مو عاجز او ناتوانه کړي، الله هر قسم قوت او قدرت لري، او تاسې په هر ډول عاجزولی شي، او په تاسې کې د دې خبرې توان نشته چې پاک الله عاجز او ناتوان کړئ.

أَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلَىٰ تَخَوُّفٍ فَإِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٤٧﴾

يا (له دې) چې ونيسي (الله) دوی لره پر وېره، نو بېشکه رب ستاسې خامخا ښه مهربان دی (پر بندګانو) ښه رحم کوونکی دی.

تفسير: يعنې يو ناڅاپه به يې وانخلي، بلکه له خبرولو څخه وروسته او د عذابونو د مبادیو د لږلو څخه پس ته په داسې يو حالت کې يې نيسي چې خلق پرې خبر او ترې اطلاع ومومي، او د عذابونو آثار وګوري او طبعاً وويريږي، يا د شاوخوا نور خلق په سماويه وو عذابونو کې اخته وګوري او په وېره کې وي، ليکن دغه خوف محض طبيعي وي، او د توبې او ندامت سره نه وي چې د عذاب دافع کېدی شي.

ځينو د «تخوّف» معنی «تنقّص» اخيستې ده، چې ورو ورو کمول وي، يعنې دغه هم ممکن دي چې دفعتاً يې هلاک نه کړي، او ورو ورو تاسې کموي او تېتوي مو.

أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا خَلَقَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَائِلِ سُجَّدًا لِّلَّهِ وَهُمْ دَاخِرُونَ ﴿٤٨﴾

آيا نه ګوري دوی هغه ته چې پيدا کړي دي الله له کومه څيزه، چې ګرځي سيوري د هغه له ښي طرفونو او کيڼ طرفونو (يعنې له هر طرفه) څخه په دې حال کې چې سجده کوونکي دي (دغه سيوري) الله ته، او حال دا چې دغه سيوري عاجزي کوونکي دي الله ته.

تفسير: يعنې کله چې په تکويني ډول هر شی د پاک الله په مخ کې عاجز، مطيع او منقاد دی، تر دې چې د سايه دارو شيانو سيوري هم د الله د حکم او د قدرت له قانون سره سم اوږدېږي او لنډېږي، او په دې لوري او په هغه لوري ځي راځي، او الله تعالی ته سجدې کوي؛ نو بيا د داسې قدرت والا د عذاب مخه کوم يو قوت او طاقت نيولی شي؟ هر انسان لره ښايي چې په خپل واک او اختيار د الله تعالی د تشريعي احکامو په مقابل کې غاړه کيږدي.

وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مِن دَابَّةٍ وَالْمَلَائِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٤٩﴾

او خاص الله ته سجده کوي هغه شيان چې په اسمانونو کې دي، او هغه شيان چې په ځمکه کې دي له ګرځېدونکو (تلونکو په ځمکه کې) او ملائکې، حال دا چې دوی نه کوي کبر (لويي سرکښي د الله تعالی له عبادته).

يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴿٥٠﴾

ويريږي دا (ملائك) له رب خپل له پاسه د دوی وی، او کوي دوی هغه (کار) چې امر (حکم) ورته کولی شي.

تفسير: يعنې پرښتې سره له دومره قربه او وجاهته د خپل الله تعالى (چې د دوی د پاسه دی) له لويي او له جلاله ويريږي، او هر هغه حکم چې دوی ته ورکولی کيږي؛ هغه على الفور اجرا کوي.

وَقَالَ اللَّهُ لَا تَتَّخِذُوا إِلَٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ۖ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ﴿٥١﴾

او فرمايلي دي الله مه نيسئ تاسې معبودان دوه، بېشکه همدا خبره ده چې دغه (بر حق معبود) معبود دی يو، نو خاص له ما څخه پس وويرږئ !.

تفسير: يعنې کله چې ګرد د اسمانونو او د ځمکو مخلوق د يوه الله جل وعلا په حضور کې په تکويني ډول بې اختياره سر په سجود او ټول ورته عاجز او مقهور دي؛ نو بيا په عبادت کې يې بل شريک له کومه پيدا شو؟ هغه پاک الله چې د ګرد جهان مالک او مطاع دی ښايي چې يواځې د همغه عبادت وکړی شي، او خاص د همغه څخه خوف او وېره پکار ده !.

وَلَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَهُ الدِّينُ وَاصِبًا ۚ أَفَغَيْرَ اللَّهِ تَتَّقُونَ ﴿٥٢﴾

او خاص همدغه (الله) لره دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او (هر هغه څه چې په) ځمکه کې دي، او خاص همده ته دې طاعت (عبادت عدل) واجب لازم همېشه؛ نو آيا غير له الله څخه ويرږئ تاسې؟.

تفسير: يعنې په تکويني ډول هر څيز خاص د الله تعالى په اطاعت او عبادت مجبور دی: ﴿أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ﴾ (٣ جزء د آل عمران سورت (٨٣) آيت (٩) رکوع)، يا دغه مطلب دی چې تل د الله تعالى عبادت لازم دی ﴿أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ﴾ (٢٣ جزء د الزمر سورت (٣) آيت (١) رکوع)، او ځينو د «دين» معنى په «جزاء» سره اخيستې ده، يعنې د نېک او بد دائمي بدل د همغه يوه الله تعالى له جانبه رارسيږي، (نو د بل چا څخه به ولې ويرږو) والله أعلم.

وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَإِلَيْهِ تَجْأَرُونَ ﴿٥٣﴾

او هر هغه څه چې تاسې سره دی له (کوم قسم) نعمت؛ نو له (طرفه د) الله دی، بيا کله چې ورسيږي تاسې ته ضرر نو خاص همدغه (الله) ته فرياد او زاری کوئ.

تفسير: يعنې ګردې ښېګڼې (فايدې) او نعمتونه د همغه له لوري دي، او د هر يوې بدۍ او سختۍ دفع هم د همغه په واک (اختيار) او قبضه کې ده، لکه چې کوم مصيبت کوم يوه انسان ته ورسيږي؛ نو له غليظ څخه غليظ مشرک هم په دغه وخت کې له نورو ګردو وسيلو څخه لاس وباسي، او يواځې د پاک الله په دربار کې دعاء کوي او ترې مدد غواړي، ګواکې انساني فطرت شاهدي ورکوي؛ چې د مصائبو او سختيو څخه نجات ورکول ماسوا له دې نه چې د پاک واحد الله کار وي، د بل هيڅا کار نه شي کېدی.

ثُمَّ إِذَا كَشَفَ الضُّرَّ عَنكُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنكُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴿٥٤﴾ لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ فَتَمَتَّعُوا فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٥٥﴾

بيا هر كله چې دفع (لرې) كړي (الله هغه) ضرر له تاسې څخه؛ ناڅاپه يوه فرقه له تاسې له رب خپله سره شريكوي. (بل) لپاره د دې چې كفران (ناقدري) وكړي په هغه څيز پورې چې ورکړی دی مونږ دوی ته؛ نو نفع واخلئ (ای منكرينو دنيوي نفع مؤقتاً)، نو ژر به پوه شئ تاسې (په عاقبت د كار خپل).

تفسير: يعنې څه مهال چې ترې سختي پورته شي؛ نو خپل حقيقي منعم هېروي، او په نهايت بېحيايۍ او بې شرمۍ د الوهيت د چارو په وېشلو پسې ولوېږي، او له دې نه نه شرميږي چې اوس لږ څه د مخه د عجز او نياز په حالت كې د همغه په دربار كې مو عرض او دعاء كوله، نه يې د حقيقي محسن احسان ومانه، او نه يې د د غې اندېښنه وكړله چې زه به د ناشكرۍ په سزا كې ونيول شم، يا لږ تر لږه د نعمت كفران به د نعمت د سلب موجب وګرځي، ګواكې هغه انعام چې «وحده لا شريك له الله تعالى» فرمايلى وو؛ بيخي د هغه په انكار باندې ټينګ ودرېد، بهتر دى چې څو ورځې هغوى ته مهلت ورکړ شي، چې په دغه دنيا كې ښې مزې وكړي، او خوندونه يې وڅكي، بالآخر به دوى ته معلوميږي چې د دغه مشركيت او د نعمت د كفران سخته سزا ورته څرنګه وركوله شي.

وَيَجْعَلُونَ لِمَا لَا يَعْلَمُونَ نَصِيبًا مِّمَّا رَزَقْنَاهُمْ تَاللَّهِ لَتُسْأَلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَفْتَرُونَ ﴿٥٦﴾

او مقرروي دا (كفار) لپاره د هغو معبودانو چې په هيڅ نه پوهيږي (علم نه لري) يوه برخه له ځينو د هغو څخه چې ورکړی دی مونږ دوی ته، قسم دی په الله چې خامخا پوښتېدلی به شئ تاسې هرومرو (خامخا) (په قيامت كې) له هغه څه چې يئ تاسې دروغ ترئ.

تفسير: دغه يې هغو ته وفرمايل؛ چې په خپل كښت او كار كې، په تجارت او صنعت كې، په مالدارۍ او جهانداری كې ماسوا له الله څخه د نورو لپاره نذر او نياز مني (موضح القرآن)، لكه چې د عربو د مشركانو رواج او دستور وو، چې د هغه ذكر (په ٩ جزء د الأنعام سورت په (١٦) ركوع) كې تېر شو.

له ﴿لِمَا لَا يَعْلَمُونَ﴾ څخه مراد همغه اصنام او نور دي، چې مشركينو دغه بتان له خپله جهالته او بېخبرۍ خپل معبودان يا د نفعې او ضرر مالكان ګڼل، حال دا چې د هغه هيڅ يو دليل او سند د دوى سره نه وو، بيا دغه شركاء يې هم د ډبرو (ګټو) له بُتانو څخې تجويز كړل، چې له هر قسم علم او شُعور څخه بې برخې دي.

وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ الْبَنَاتِ سُبْحَانَهُ وَلَهُم مَّا يَشْتَهُونَ ﴿٥٧﴾

او مقرروي (دا كفّار) الله ته لونې، پاك دى دغه (الله له ولده او له شريكه) او (مقرروي) ځان ته هغه څيز چې د دوى خوښ وي.

تفسير: يعنې الله تعالى له دغه پاك او منزّه دى چې اولاد ورته ثابت كړى شي، بيا په تېره لونې، تعجب دى چې دغه خلق د حق تعالى په نسبت څرنګه جرأت كوي، په دغه آيت كې د «بنو خزاعه» او د «كنانه» د قبيلو رد وشو؛ چې پرښتو ته يې د الله تعالى لونې ويل (العياذ بالله).

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٥٨﴾

او كله چې خبر ورکړی شي يو تن د دغو (كفّارو) ته په (پيدا كېدو د) لور سره؛ نو وګرځي مخ د ده تك تور له غمه، حال دا چې دى ډك وي له قهر (خپلې ښځې ته چې لور دې ولې راوړه؟).

يَتَوَارَىٰ مِنَ الْقَوْمِ مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓ ۚ أَيُمْسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُۥ فِى التُّرَابِ ۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٥٩﴾

پټ ګرځي له قومه (خپله) له سببه د ناخوښۍ د هغه شي څخه چې خبر ورکړی شوی دی (ده ته) په هغه سره، آیا وساتي (دی) هغه لور سره د سپکوالي، او که یې ومنلې (ژوندی) په خاوره کې؟ واورئ خبردار شئ ! چې بد دی هغه چې حکم کوي دغه (کفّار چې نسبت د عیوبو دی الله ته).

تفسیر: له دوی څنې که کوم یوه ته خبر ورکړی شي چې تا کره لور شوې ده؛ نو له ډېر نفرت او غم او اندېښنې څخه يې وچولی (تندی) تریو شي، او ګرده ورځ له ډېره خفګانه په نظر په بله بڼه (شکل) راځي، او زړه يې پسخېږي چې دغه د نه ویلو غبار او مصیبت له کومه راباندې راغی؟.

﴿أَيُمْسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ﴾ الآیة ـ یعنې له دغه رسمي او عرفي ننګ او عار له تصوره چې کله دغه لور مې ژوندی راپاتې شي؛ نو بل څوک به مې ځوم کېږي، نو زه په هغه وخت کې چاته خپل مخ ښوولی شم؟ او چېرې به پټ ګرځم؟.

﴿أَمْ يَدُسُّهُۥ فِى التُّرَابِ﴾ الآیة ـ یعنې شپه او ورځ په فکر او تردد کې مصروف او تجاویز جوړوي، چې آیا زه دغه دنیوي عار قبول او دغه جینې پرېږدم چې ژوندون وکړي؟ یا يې په ځمکه کې خښه کړم؟ یعنې ویې وژنم، لکه چې د جاهلیت په زمانه کې ډېر سخت زړي او ظالم سړي به خپلې جینکې وژلې، یا به يې ژوندۍ په ځمکه کې خښولې، کله چې اسلامي دین منتشر شو؛ نو دغه قبیح رسم يې له منځه ورک کړ، او په داسې ډول يې سره قلع او قمع وکړه چې وروسته له اسلامه په ګرد ملک کې د دغې بې رحمۍ یوه پېښه او مثال هم وړاندې نه شو.

د جینکو په متعلّق هغه د ظلم او تیري فیصله چې د دغو کفارو ده، له هغه څنې زیاته بده فیصله دغه ده؛ چې الله تعالی ته يې د اولاد تجویز کولو، بیا اولاد هم «اناث» چې له هغو څخه دوی پخپله کرکه او تنفر کولو، ګواکې دوی د خپلو ځانونو لپاره ښه شیان او الله تعالی ته يې ناقص شیان مخصوصول (العیاذ بالله).

لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْءَاخِرَةِ مَثَلُ السَّوْءِ ۖ وَلِلَّهِ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٦٠﴾

دی هغه کسانو ته چې نه راوړي ایمان په (ورځ د) آخرت مثال (صفت) بد (ناکاره)، او خاص الله لره دی مثال (صفت لوی) لوړ، او همدی دی قوي غالب (په انفاذ د احکامو) حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

تفسیر: یعنې هغه مشرکین چې د خپلو ظلمونو او ګستاخیو او سپین سترګیو په بد انجام باور نه لري؛ خراب مثال یا خراب صفت د همدوی دی، هم دوی اولاد ته اړ (مجبور) او محتاج دي، چې د درد، رنځ او د ضعیفۍ په وخت کې په ښه او په کار يې ورشي، دوی لره په کار دي چې له خپلو ځامنو څخه مدد او مرسته وغواړي، د عار یا د افلاس یا د نورو وېرو په وجې د جونو وژل د دوی دود او دستور دی.

الغرض هر ډول بد مثالونه او نقص او عیب نسبت ښایي چې د همدوی په طرف وکړی شي، د الله تعالی په طرف د دغو صفاتو انتساب چې د مخلوقاتو خاصه ده، او (معاذ الله) د ځامنو او د لونو د تجویز ډېر حقیر او سپک مثالونه ورکول د پاک الله له عظیم او رفیع شان سره منافي دي، د الله تعالی لپاره خو هغه مثالونه او صفتونه ثابتېدی شي؛ چې له اعلی څخه اعلی او له هر لوړ او لوی شي څخه لوړ او لوی وي.

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِمْ مَا تَرَكَ عَلَيْهَا مِنْ دَابَّةٍ وَلَٰكِنْ يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى ۖ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٦١﴾

او که نیولي وی الله (دا) خلق په ظلم (کفر او معاصیو) د دوی سره؛ نو نه به یې وو پرې ایښی پر مخ د دې ځمکې باندې هیڅ خوځېدونکی (تلونکی)، ولیکن وروستي کوي دوی تر هغه نېټې په نامه مقررې کړی شوې پورې، نو کله چې راغله نېټه (د موت یا عذاب) د دوی؛ نه به وروسته کیږي (دوی له هغه نېټې څخه) (په قدر د) یو ساعت، او نه (ترې) ړومبي کیږي.

تفسیر: یعنې که پاک الله پر هره هره خبره په همدغې دنیا کې هر یو ونیسي، او سمدلاسه سزا ورکړي؛ نو د دغې دنیا ګرده سلسله به سره وشلیږي، او په څو دقیقو (شېبو) کې به دغه دنیا پنا شي، مګر مجرمینو ته د توبې او اصلاح وار او موقع ورکوي، او تر موعوده وقته پورې یې خوشې پرېږدي، او مهلت او وار ورته ورکوي، کله چې هغه ټاکلې (مقرر کړې) نېټې ته ورسیږي؛ نو بیا هغه یوه ثانیه (ړپه) نه وړاندې کیږي او نه وروسته کېدی شي.

تنبیه: ځینې مفسرین له ﴿مَا تَرَكَ عَلَيْهَا مِنْ دَابَّةٍ﴾ څخه خاص ظالمه دابّه مرادوي، که دغه صحیح وي؛ نو مطلب بیخي واضح دی او هیڅ اشکال نه دی پاتې، والله أعلم.

وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكْرَهُونَ وَتَصِفُ أَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ أَنَّ لَهُمُ الْحُسْنَىٰ ۚ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَأَنَّهُمْ مُفْرَطُونَ ﴿٦٢﴾

او ثابتوي دا (کفّار) الله ته هغه څه چې بد یې ګڼي (دوی خپلو ځانونو لره لکه لونې یا شریکان) او بیانوي ژبې د دوی دروغ (چې) بېشکه شته دوی ته ښه حالت (په نزد د الله کې)، حقه رښتیا (ثابته خبره دا ده) چې بېشکه شته دوی ته اور، او بېشکه دغه (کفار) په منډه بیولی شي (بیا به هلته په اور کې پرېښودلی شي).

تفسیر: یعنې هغه شیان چې دوی یې بد ګڼي، او د خپلو ځانونو لپاره یې نه غوره کوي، لکه جینکی، یا په خپل ملکیت کې د کوم پردي شرکت، یا استهزاء یا استخفاف او نورې سپکې معاملې؛ نو هغه د الله قدّوس (جلت عظمتُه) لپاره ثابتوي.

﴿لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَأَنَّهُمْ مُفْرَطُونَ﴾ یعنې سره له داسې ګستاخیو هسې باطلې آرزوګانې لرل د دې خبرې دلیل دی چې د هغوی لپاره هیڅ یوه ښېګڼه (فائده) او نیکي نشته، هو ! د دوی لپاره د دوزخ اور تیار دی، چې دوی ورته په منډو بیولی او ځغلولی شي، او کله چې هلته ورسیږي او په کې ولویږي؛ نو ګواکې بیخي هیر شوي دي، یعنې تر أبد الآباد پورې هیڅکله د مهربانۍ نظر به پر دوی نه کیږي.

تَاللَّهِ لَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَىٰ أُمَمٍ مِنْ قَبْلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾

قسم دی په الله په تحقیق لیږلي وو مونږ په طرف د امتونو پخوا له تا څخه (ای محمده نور رسولان)؛ نو ښایسته کړي وو دغو (امتونو) ته شیطان هغه (بد) عملونه د دوی (چې کلک پرې ولاړ وو) نو همغه (شیطان) دوست د دوی دی نن ورځ، او شته (په آخرت کې) دوی ته عذاب دردناک.

تفسير: د مکې معظمې د کفارو د ګستاخيو او چتې (بېکاره) دعاويو د ذکر څخه وروسته محمد صلى الله عليه وسلم ته تسلي ورکوي، چې تاسې د دوی له دغو حرکاتو څخه مه خپه او مه زړه تنګي شئ ! مونږ له تاسې څخه د مخه هم د مختلفو امتونو په طرف انبياء لېږلي وو، ليکن تل همداسې پېښه واقع شوې ده، چې لعين شيطان دغو مکذبينو ته د دوی بد عمل ښه ورڅرګند (ورښکاره) کړی دی، او دوی به پرله پسې پخپلو شرارتونو کې پرمختګ او ترقي کوله، او نن هغوی د الله تعالى په عذاب کې اخته او ککړ دي، او شيطان چې د دوی رفيق او ملګری وو؛ هيڅ د دوی په ښه او کار ورنغی، او نه يې په داد او فرياد ورسېدی شي، هم دغسې به ستاسې د مکذبينو انجام هم کيږي.

وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ۙ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٦٤﴾

او نه دی نازل کړی (رالېږلی) مونږ پر تا دغه کتاب (قرآن) مګر لپاره د دې چې بيان کړې ته (ای محمده !) دوی ته هغه (څيز) چې اختلاف کړی دی دغو (خلقو) په هغه کې، او (لپاره د) هدايت او رحمت لپاره (د هغه) قوم چې ايمان لري (په ټولو مؤمن به شيانو).

تفسير: يعنې لوی قرآن يواځې د دې لپاره نازل کړی شوی دی؛ چې د هغو اساسي او رښتيا اصولو بيان په ډېر وضاحت او تحقيق سره وکړې؛ چې خلق په کې اختلاف او جګړې کوي، (مثلا: توحيد، معاد، د حلالو او حرامو احکام) او نور چې هيڅ اشکال او خفاء په کې پاتې نشي.

ګواکې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د دغه لوی قرآن په وسيله د ګردو (ټولو) منازعو او جګړو سمه او صافه فيصله اورولې ده، او د الله تعالى پر بندګانو يې د الله تعالى حجّت تمام کړی دی.

﴿وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾ يعنې فيصله او بيان خو د ګردو (ټولو) لپاره دی، ليکن د دې هدايت څخه منتفع کېدل، او د الله تعالى د رحمت سره غاړه په غاړه کېدل د همغه چا په برخه کيږي؛ چې دغه فيصله د زړه په صدق سره تسليموي، او په طوع او رغبت سره په ټولو مؤمن به شيانو ايمان راوړي.

وَٱللَّهُ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٦٥﴾

او الله نازلې کړي (لېږلې) دي له (طرفه) د اسمانه اوبه (باران)؛ نو ژوندي (شنه) يې کړه په دې (اوبو) سره ځمکه وروسته له مرګه (وچوالي) د هغې (ځمکې)، بېشکه په دغه (زرغونتيا) کې پس له وچوالي خامخا دليل (ښکاره د قدرت) دی لپاره (د هغه) قوم چې اوري (د الله احکام د زړه په غوږونو او په انصاف سره، بيا عبرت هم تري اخلي)، (يا چې اوری د الله کتاب په اوريدلو د قبول سره).

تفسير: يعنې وچه ځمکه په اسماني باران سره زرغونوي، ګواکې وچوالې د ځمکې موت، او شينتوب او خړوبتوب يې ژوندون او حيات دی.

﴿إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ﴾ يعنې همداسې د قرآن په وسيله جاهلان ـ عالمان، او مړه زړونه ژوندي کوي، که يې د زړه په توجّه او انصاف سره واوري.

وَإِنَّ لَكُمْ فِى ٱلْأَنْعَٰمِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِى بُطُونِهِۦ مِنۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشَّٰرِبِينَ ﴿٦٦﴾

او بېشکه چې دی تاسې ته په چارپايانو کې ډېر لوی عبرت، چې درځښوو مونږ تاسې ته له هغه ځينو څيزونو څخه چې دي په ګېډو د هغو (لنګو څاروو کې) له منځه د خوشاييو او د وينو

شودې صافې پاکې (له رنګه او بویه د خوشاییو او وینو) آسان تېرېدونکې (له حلقه او خوش مزه) لپاره د څښونکو.

تفسیر: یعنې اوښه، غوا، مېنبه او نور حیوانات چې بوس، پروړ او واښه خوري، نو دغه خواړه کله چې د دوی په ګېډو کې لویږي، د درو شیانو په طرف مستحیل کیږي، الله جل جلاله د دغو حیواناتو د اجسامو په منځ کې داسې یو مشین لګولی دی؛ چې د غـذاء د ځینو اجزاوو د تحلیل کولو وروسته د فضلې (پچې او خوشایي) په شکل د باندې یې غورځوي، او له ځینو اجزاوو څخه وینه پیدا کوي او په رګونو کې یې خپروي (خوروي) چې د دوی د حیات او بقاء سبب ګرځي، له همدغې مادې څخه چې ځینې یې وینه ګرځېدلې ده، د دغو دوو ګنده وو شیانو په منځ کې یو درېم شی (چې شوده دي) هم تیاروي، چې نهایت پاک، طیب، سپېڅلی ا وخوندور شی دی.

وَمِن ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾

او له مېوو د خرماګانو او (له مېوو د) د تاکو (کورو ـ انګورو) څخه (هم داسې درځښوو مونږ پر تاسې)، چې جوړوئ تاسې له دغو مېوو څخه نشه کوونکي (بد) او رزق (روزي) ښه، بېشکه په دغو (انواعو د مېوو او مشتقاتو) کې (یې) خامخا دلیل د الله تعالی د یووالي دی لپاره د (هغه) قوم چې عقل چلوي، او فکر او غور په کې کوي.

تفسیر: یعنې له دغو مېوو څخه نشه یې باسئ، او د خوړلو او څښلو نور ښه او عمده شیان ترې جوړوئ لکه شربت، نبیذ، سرکه او وچه خرما او مویز او نور ترې حاصلوئ.

تنبیه: دغه آیت مکي دی، د شرابو څښل په مکه معظمه کې لا نه وو حرام شوي، او شراب څښونکي به هغه بلا تکلفه څښل، د شرابو څښل وروسته له هجرته حرام شو، بیا هیڅ یو مسلمان له سره لاس نه دی وروړی، خو بیا هم په همدغه مکي آیت کې یې هم د ﴿سَكَرًا﴾ څخه وروسته د ﴿وَرِزْقًا حَسَنًا﴾ فرمایلو سره تنبیه فرمایلې ده، چې وروسته له دې نه شراب حرام کېدونکي دي، ځکه چې پر شرابو د «رزق حسن» اطلاق نه دی موزون، او بل دلته د ﴿يَعْقِلُونَ﴾ لفظ چې د عقل څخه مشتق دی د «سکر» له تذکرې سره خاص مناسبت لري، کله چې نشه عقل زائل کوي؛ نو ځکه یې اشاره وفرمایله چې د آیاتونو پوهېدل د عقلاوو کار دی، او د نشه څښوونکو او مستانو کار نه دی.

وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ ﴿٦٨﴾

او په زړه کې واچوله رب ستا مچیو د شاتو ته (دا خبره) چې ونیسئ (او جوړوئ) تاسې په غرونو کې کورونه او له ونو څخه او له هغه څخه چې خلق یې لوړ جوړوي.

تفسیر: یعنې د انګورو د پورته کولو لپاره هغه چپلې او اچي (څپرونه) چې تاسې یې جوړوئ یا هغه عمارتونه چې خلق یې تیاروي، د شاتو مچی په زړه کې اچولو او حکم ورکولو څخه دغه مطلب دی؛ چې د هغه فطرت داسې جوړ شوی دی، چې سره د ادنی حیوانتوبه په نهایت کاریګری، ډېرې چالاکی، ښه شعور، اعلی ادراک او نري صنعت خپلې شکرګنې (ګبینونه) د غرو او ونو په سوریو او چاودونو او په عمارتونو او نورو کې تیاروي، او نورې ټولې مچی د یوې لویې مچی تر حکم لاندې په ډېر ښه اطاعت او انقیاد سره کار کوي.

د دوی مشر ته «یعسوب» وایي، چې د ده په متابعت د مچیو فوج هر لوري ته حرکت کوي، کله چې دوی کومه ځاله (شکرګنه) جوړوي؛ نو د دغې ځالې ټولې خونې د «متساوي الأضلاع مسدّس» په شکل وي، بې له مسطرو او بې له پرکارو او نورو هندسي اسبابو په دومره صحت او انضباط سره داسې سم او برابر ـ منظم مرتب او په همغه یوه شکل د دغو ګردو کورونو جوړول داسې شی دی؛ چې انسان ورته هک پک او حیران پاتې کیږي.

حکماء وايي: که بې له مسدسه کوم بل شکل يې غوره کړی وي؛ نو خامخا به په منځ کې څه ځای فضول او بېکاره پاتې وي، فطرت دې ته د داسې يوه شکل په لوري لارښوونه کړې ده؛ چې په هغه کې هيڅ يوه فرجه او تشوالی هم خوشې او بېکاره نه وي پاتې.

﴿ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ۚ يَخْرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاءٌ لِّلنَّاسِ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٦٩﴾﴾

بيا نو خورئ تاسې (ای مچيو !) له هر قسمه مېوو څخه نو ځئ (الوځئ) په لاره د رب خپل په دغه حال کې چې آسانه ده (صافه او خلاصه درښکاري)، راوځي له ګېډو د دوی د څښلو (شی، شات) چې مختلف دي رنګونه د دې، په دغو (شاتو) کې شفاء ده لپاره د خلقو، بېشکه په دغو (مچيو او شاتو کې) خامخا ډېر لوی دليل دی (پر قدرت او حکمت د الله) لپاره د هغه قوم چې فکر کوي.

تفسير: ﴿كُلِي﴾ او ﴿فَاسْلُكِي﴾ ګرد تکويني اوامر دي، يعنې فطرتاً يې هغه ته هدايت ورکړی دی چې خپل خواهش او استعداد او مزاج سره مناسب له هر قسمه مېوو او ګلانو او نورو شيانو څخه خپل خواړه او غذا حاصله او غونډه کړي، لکه چې دغه مچی له خپلو ځالو څخه راوځي، او له هر راز ګلانو او مېوو خپله غذا په ځېښلو سره حاصلوي، چې له هغه څخه شات او موم او نور حاصليږي.

﴿فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا﴾ يعنې د غذاء حاصلولو، او د خوړلو او څښلو څخه وروسته د ښه راتللو لارې صافې او خلاصې در پرتې دي، او هيڅ يو مزاحمت او ممانعت ستاسې په لاره کې نشته، لکه چې ليدلي شوي دي چې مچی خپلې د غذاء لټولو پسې بعضې اوقات ډېرو لرو ځايونو ته ځي، او بيا بلا تکلّفه خپلې شکرګنې (ځالې) ته برابر ښه راځي، او لږ شانې هم ترې لار نه ورکيږي، او نه ترې هيريږي.

ځينې د ﴿فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا﴾ مطلب داسې اخيستی دی، چې الله تعالی هغه فطري لارې چې ستا د عمل او تصرّف لپاره مقرر کړي دي؛ پر هغو مطيع او منقاد شه ! او سم برابر پرې تل درومه ! مثلاً د ګلانو او مېوو څخه خپله غذا وڅکه او وځېښه ! او پخپلې فطري قواوو او تصرفاتو سره شات او نور ترې جوړوه !.

﴿يَخْرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ﴾ يعنې د مختلفو رنګونو شات ترې وځي: سپين، سره او ژېړ، وايي چې د رنګونو اختلاف پر موسم ـ غذاء ـ او د مچيو په عمر او نورو پورې اړه لري، او د دغو مخالفتونو لامله دغه اختلاف په کې څرګندېږي، والله أعلم.

﴿فِيهِ شِفَاءٌ لِّلنَّاسِ﴾ يعنې په ډېرو ناجوړيو کې له يواځې خالصو شاتو څخه يا له بلې کومې دواء سره د ګډېدلو په اثر کله چې مريضانو ته ورکړ شي؛ باذن الله د رنځورانو د شفاء وسيله ګرځي، په حديث کې راغلي دي چې يو سړی د نس کېناستلو (دستونو) لامله ډېر سخت په تکليف وو، د ده ورور ته ځمونږ پاک رسول الله مبارک صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې: پرې شات وڅښولی شي، کله چې شات پرې وڅښول شو؛ نو د هغه په اسهال کې لا تزيید واقع شو، نو هغه سړی بيا د رسول الله مبارک په حضور کې حاضر شو، او هغه واقعه يې عرض کړه چې يا رسول الله صلی الله عليه وسلم ! ځما د ورور نس ناسته لا پسې زياته شوه، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «صدق الله وکذب بطن أخيک» «الله رښتيا فرمايلي دي، او ستا د ورور ګېډه دروغجنه ده، بيا يې پرې وڅښوه»، بيا ورڅښولو څخه بيا هغه کيفيت مداومت وکړ، نو بيا هم پاک رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه خپله اوله وينا تکرار کړه، بالآخر د درېم ځلي شات ورڅښولو څخه هغه اسهال بند شو، او د هغه رنځور طبيعت درست شو.

اطباوو له خپلو اصولو سره سم ویلي دي، چې ځینې اوقات په ګډه کې «کیموس» فاسدیږي، چې د ګډې هر راز (قسم) رسېدلې غـذاء او خواړه او دواء فاسدوي، نو ځکه اسهال (د نس ناسته) پیل (شروع) کوي، نو د هغه علاج همدغه دی؛ چې مسهلات ورکړ شي، څو هغه فاسد «کیموس» ووځي، د شات په مسهلتوب کې هیڅ شک نشته، ګواکې د رسول الله مبارک صلی الله علیه وسلم مشوره د همدغه طبي اصول په اساس وه.

د مأمون الرشید په زمانه کې کله چې «شمامة عبسي» ته هم داسې یو مرض لاحق شو، نو د دغې زمانې شاهي طبیب «یزید بن حناء» په مسهل د هغه علاج وکړ، او همدغه وجه یې ورځرګنده (ورښکاره) کړه، د نن پرون طبیبان هم د «استطلاق البطن» د علاج لپاره د شات استعمال بېحده مفید ښیي.

وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفَّاكُمْ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰ أَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْئًا ۗ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴿٧٠﴾

او الله پیدا کړي یئ تاسې (له عدمه) بیا به وژني تاسې (بیا به وفات کړي تاسې په اجل خپل سره) او ځینې له تاسې هغه څوک دي چې رد کولی شي هغه ډېر خوار ژوندون ته لپاره د دې چې ونه پوهیږي (دغه زوړ) پس له علمه چې یې درلود (لرلو) په ځلمیتوب کې په هیڅ شي (لکه وړوکی)، بېشکه چې الله ښه عالم دی (پر هر شي) ښه قادر دی.

وَاللَّهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ ۚ فَمَا الَّذِينَ فُضِّلُوا بِرَادِّي رِزْقِهِمْ عَلَىٰ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَهُمْ فِيهِ سَوَاءٌ ۚ أَفَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٧١﴾

او الله فضل ورکړی دی ځینې ستاسې ته پر ځینو (نورو) په رزق (روزی په غنا، فقر، مالکیت او مملوکیت) کې، نو نه دي هغه کسان چې فضل زیات ورکړی شوی دی دوی ته رد کوونکي (ورکوونکي) د رزق (روزی، مال) خپل هغه چا ته چې یې مالکان شوي دي ښې لاسونه د دوی (یعنې له خپلو ځانونو سره یې شریکوي)، آیا نو دا مالکان او مملوکان په دې (اموالو) کې سره برابر دي؟ (بلکه نه دي سره برابر)، آیا نو په نعمت د الله باندې انکار کوي دغه (چې الله ته شریکان ثابتوي).

تفسیر: یعنې د الله تعالی راکړې روزي او بخښنه د ټولو لپاره یو شان او یو برابر نه ده، د استعدادو او احوالو د تفاوت په لحاظ پاک الله تعالی پخپل بالغه حکمت ځینو ته پر ځینو نورو فضیلت ورکړی دی، ځینې یې داسې مالداره او بااقتداره ګرځولي دي؛ چې د هغوی تر لاسو لاندې ډېر مریان او نوکران او چاکران وي، چې هغوی ته د همده په ذریعه روزي ورورسیږي، فرض یې کړئ ! که بادار خپل مریي آزاد کړي، او پخپل دولت او نورو کې ورته پوره او برابره برخه ورکړي؛ نو بېشکه دلته د دوی دواړو په منځ کې مساوات قائمیږي، مګر په دغه وخت کې هغه مریي مریي نه دی پاتې، په هر حال د مریتوب کیفیت او مساوات له سره پخپلو منځو کې سره نشي جمع کېدی، لکه چې د دوو همجنسو او متحدالنوعو انسانانو په منځو کې په مالکیت او مملوکیت کې سره شرکت او مساوات نشي جمع کېدی؛ نو بیا د حسرت او حیرت ځای دی، چې د خالق او مخلوق په منځ کې په معبودیت او نورو کې څرنګه برابري او مساوات کولی شي؟ داسې شیان د حقیقي مالک شریک او سهیم تاکلي کیږي، چې پخپله مشرکین هم هغه د الله تعالی مخلوق او مملوک ګڼي، او پرې داسې اقرار کوي: «إلا شریکا هو لک، تملکه وما ملک» آیا د حقیقي منعم د نعمتونو شکریه همدغه ده چې د هغو خبرو څخه چې د هغو په منلو کې ستاسې وچولی (تندی) تریو کیږي، او غړي مو وهلی کیږي، او ډېر پرې خپه کېږئ، له هغه څخه زیات قبیح او شنیع صورت هغه لپاره تجویز وکړی شي، همغسې چې په روزی او نورو شیانو کې الله تعالی ځینو ته پر ځینو نورو فضیلت ورکړی دی، او ګرد یې سره په یوه درجه کې نه دي ایښي، که

په علم او عرفان او د نبوت په کمالاتو کې هم کوم لوی ذات ته پر نورو فوقیت ورکړي؛ نو د الله تعالی د دغه نعمت څخه انکار پرته (علاوه) له ضده او عناده بله وجه نه لري.

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ بَنِيْنَ وَحَفَدَةً وَّرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ۭ اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَتِ اللّٰهِ هُمْ يَكْفُرُوْنَ ﴿۷۲﴾ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ شَيْـــًٔا وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿۷۳﴾

او الله پیدا کړي تاسې ته له جنسه ستاسې ښځې (چې زړه مو ورسره آرام شي) او پیدا کړي یې دي تاسې ته له ښځو ستاسې ځامن او لمسي (چې ستاسې د نوعې د بقاء ذرائع دي) او روزي رزق یې درکړی دی تاسې ته له طیباتو پاکیزه وو (خوندورو شیانو نه چې ستاسې د شخصي بقاء وسائل دي)، آیا نو (دغه کفّار) پر باطلو (معبودانو) ایمان راوړي، او په نعمت د الله (چې اسلام دی) دوی کافران کیږي. او عبادت کوي دغه (کفّار) بې له الله د هغه (څیز) چې نه لري هیڅ واک لپاره د دوی د رزق (روزي ورکولو) له اسمانونو (په ورولو سره) او له ځمکې (په زرغونولو سره) د هیڅ څیز او نه طاقت لري (دغه باطل معبودان د هیڅ شي).

تفسیر: یعنې له همدغې انساني نوعې څخه ستاسې ښځې یې پیدا کړي، څو ستاسې په منځ کې الفت او مؤانست قائم وي، او د تخلیق غایه او غرض تکمیل شي، ﴿وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ۭ﴾ (۲۱ جزء د الرّوم سورت (۲۱) آیت (۳) رکوع).

﴿اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ﴾ یعنې د بُتانو احسان منئ چې له ناروغۍ څخه مو په زعم ستاسې روغ کړي، یا ځامن درکړي، یا روزي در ورسوي، چې دغه ګرد سره دروغ او هغه ذات چې په رښتیا سره د دغو شیانو درکوونکی دی؛ د هغه شکر نه اداء کوئ، کذا في الموضح.

﴿وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ یعنې نه له اسمانه د باران ورولو اختیار لري، او نه له ځمکې څخه د غلې او دانې د زرغونولو قدرت د دوی په واک کې شته، نو بیا په معبودیت کې د مطلق قادر او برحق قاهر شریکان څرنګه کېدی شي؟.

فَلَا تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ الْاَمْثَالَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۷۴﴾

نو مه بیانوئ تاسې الله سره مثالونه (شریکان په عبادت کې)؛ بېشکه الله ته معلوم دی (بطلان د قول ستاسې) او تاسې نه پوهیږئ (که نه داسې به مو نه کوله).

تفسیر: مشرکانو به ویل چې حقیقي مالک خو الله تعالی دی، دغه کسان د الله تعالی په دربار کې مختار دي، او ځمونږ کارونه هم دغو پورې اړه لري، او هغه الله پورې مونږ نشو رسېدی، نو دغه مثال بیخي غلط دی؛ چې انسانان دې د احدیت له درباره سره بالکل څه تعلق او مناسبت ونه لري، الله تعالی هر شی پخپله کوي، اعم له دې چې بالواسطه وي یا بلاواسطه، او هیڅ یو کار یې هیچا ته داسې نه دی سپارلی، لکه چې دنیوي سلاطین خپلو ماتحتو حکامو ته اختیارات ور تفویض کوي، چې تفویض یې په اراده او اختیار سره وي، لیکن د تفویض څخه وروسته هغوی د هغو اختیاراتو په استعمال کې آزاد او مختار دي، د کوم شوری، اعیان، وزیر، معین، نائب الحکومه، مجلس مشوره، قاضي او حاکم د فیصلې په وخت کې نه باچا او نه وزراء او نه بل څوک د هغې واقعې له جزیاتو او فیصلې څخه پوره خبردار وي، نه په هغه وخت کې په جزئي ډول سره د باچا مشیت او ارادې ته د هغې فیصلې په صدور کې څه دخل شته، دغه صورت د الله تعالی په دربار کې له سره نشته، بلکه هر یو لوی او وړوکی کار او له ادنی څنې ادنی جزئي

شی که د اسبابو په واسطه سره وي، که بلاواسطه د ده د محیط علم او مشیت او ارادې سره سم واقع کیږي؛ نو بناء پر دې پر مونږ او نورو هر مسلمان او انسان لازم دي، چې د هر کُلّي او جزئي خالق، فاعل او حقیقي مؤثر همغه پاک الله تعالی وبولي، او یواځې بې له مله او شریکه همغه الله واحد جلّ وعلا خپل معبود او مستعان وپیژني، او پر همدغه اعتقاد ټینګ او کلک ولاړ وي.

تنبیه: له ابن عبّاس رضي الله تعالی عنهما او نورو اسلافو څخه د ﴿فَلَا تَضْرِبُوا لِلَّهِ الْأَمْثَالَ﴾ دغه مطلب منقول دی: «تاسې هیڅ شی د پاک الله سره مماثل مه بولئ !».

ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوكًا لَّا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ وَمَن رَّزَقْنَاهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَجَهْرًا ۖ هَلْ يَسْتَوُونَ ۖ الْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾

بیانوي الله یو مثال چې مریي وي مملوک (نه مکاتب او مأذون) چې نه قادریږي په هیڅ شي (له نفعې او ضرره)، او بل هغه څوک وي چې رزق روزي ورکړې وي مونږ ده ته له درباره خپله رزق روزي ښه (ډېر مال بې له شرکته)، نو دغه سړی نفقه کوي له هغه ماله په پټه او ښکاره، آیا برابریږي سره دوی (نه برابریږي)، ټوله ثناء صفت الله لره دی (چې لوی څښتن «مالک» د ټولو نعماوو دی)، بلکه زیاتره یعنې ګرد د دوی سره نه پوهیږي (چې نسبت د نعمتونو کوي نورو ته).

تفسیر: یو سړی چې هغه خپلواک (خود مختار) او آزاد نه وي، او د بل مریي او مملوک وي، او هیڅ ډول قدرت او اختیار نه لري، او په هر تصرّف او کار کې د مالک اجازې او اشارې ته اړ او محتاج وي، او بلا اجازه د هغه ګرد تصرّفات غیر معتبر وي، بل خپلواک آزاد با اختیاره سړی دی، چې ورته الله پخپل فضل او رحمت ډېره روزي رزق او مقدرت وربخښلی دی، چې له هغه څخه شپه او ورځ په پټه او ښکاره (په هر ډول یې چې زړه غواړي) په خلاص لاس او په ډېر اخلاص یې صرفوي، او هیڅوک د هغه لاس نشي نیولی، آیا دغه دواړه سړي سره برابر کېدی شي؟ همداسې وپوهیږئ چې الله تعالی د هر څیز حقیقي مالک دی، او ټول تعریفونه او ښېګڼې (فائدې) د ده په خزانه کې دي، هر چا ته هر څه چې اراده وفرمایي؛ ورکوي یې، او هیڅوک یې مزاحمت کوونکی نه دی، په ذره ذره باندې هم کلي اختیار او کامله قبضه لري، دغه به څومره د ظلم خبره وي چې تاسې له هغه الله جل جلاله سره د ډېرې (ګټې) یا د ځټو یا د نورو یو داسې بُت برابروئ؛ چې هغه د هیڅ یو څیز مالک نه دی، بلکه پخپله د بل چا مال دی، کله چې مجازي مالک او مجازي مملوک سره نشي برابرېدی؛ نو بیا حقیقي مملوک به څرنګه د حقیقي مالک شریک کېدی شي؟.

وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا أَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ وَهُوَ كَلٌّ عَلَىٰ مَوْلَاهُ أَيْنَمَا يُوَجِّههُّ لَا يَأْتِ بِخَيْرٍ ۖ هَلْ يَسْتَوِي هُوَ وَمَن يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ ۙ وَهُوَ عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٧٦﴾

او بیانوي الله یو مثال چې دوه سړي وي چې یو له دوی نه ګونګ (چارا) وي (چې نه څه اوري او نه څه وایي) نه قادریږي په هیڅ څیز حال دا چې دغه ګونګ بار (پټې) وي پر مولا (بادار) خپل، هر چېرته چې ولیږي (بادار) دغه (مریي)؛ نه راوړي نه راځي په خیر سره (بلکه شر ورته راوړي)، آیا برابریږي دغه (ګونګ بې خبره)، او هغه څوک چې امر کوي (خلقو ته) په عدل (انصاف؟ بلکه له سره نه دي برابر) حال دا چې دی (پخپله هم) پر لاره سمه (روان وي چې ژر رسېدونکې ده مقصود ته).

تفسير: څوک چې ګونګی وي؛ نو په لازمي ډول سره کوڼ به هم وي، ګواکې دی به نه پخپله خبرې کولی شي، او نه له نورو څخه څه شی اورېدی شي (او هیڅ قوّت او قدرت نه لري په هیڅ شي)، ځکه چې نه حواس لري، نه عقل او شل او شوت هم وي، چې هیڅپرې تلی راتلی هم نشي، د خپل مالک هیڅ یو کار نشي کولی، هر چېرې چې یې ولیږي، یا یې متوجّه کړي؛ هیڅ قسم ښېګڼه (نفع) او فلاح نشي ورسولی (او کار یې تر سر نه رسوي، او خپل بادار «سردار» د هغه په مقصد او کار نه بریالی کوي)، نو آیا سره برابریږي دغه ګونګ او بېخبره او هغه څوک چې امر کوي خلقو ته په عدل او انصاف سره؟ یعنې پخپله هم پر سمه لاره روان دی، او هم نورو ته هم د اعتدال او انصاف سمه برابره لاره ورښیي او روانوي یې، کله چې دغه دواړه کسان سره نه دي برابر؛ نو یو له خپله ځانه جوړ کړي بُت ته العیاذ بالله د معبود درجه ولې ورکوله کیږي؟ یا یو ډوند او کوڼ مشرک چې د الله تعالی پیدا کړې روزی څخه خوري، او دیوې کوډې په اندازه کار هم نه کوي، له هغه قانت مؤمن سره څرنګه برابر کېدی شي چې دی پخپله هم په سمه صافه لاره روان دی، او نور خلق هم له خپله ځانه سره یو ځای بیایي؟.

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَآ اَمْرُ السَّاعَةِ اِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ اَوْ هُوَ اَقْرَبُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۷۷﴾

او خاص الله لره دی (علم په) پټو د اسمانونو او د ځمکې، او نه دی امر (قیام) د قیامت (په سرعت او سهولت کې) مګر په مثل د پټولو یا خلاصولو د سترګو بلکه دا له هغه څخه هم ډېر نژدی دی، بېشکه الله پر هر شي ښه قادر دی.

تفسير: یعنې ګرد مخلوق سره یو شان نه دي، د یوه سړي حال د بل سړي له حاله بې انتهاء اختلاف لري، ګرد شیان پر یوه مستوي سطح نه دي درولي شوي، د دغو ټولو شیانو اسرار او د هر یوه پټ استعدادات او مخفي حالات الله تعالی سره دي، لکه چې الله سم له خپل محیط علم سره په قیامت کې له هر یوه سره ببله معامله کوي، او پر مختلفو احوالو به مختلفې نتیجې مرتب فرمایي.

یعنې تاسې قیامت مستبعد مه ګڼئ، پاک الله تعالی ته هیڅ یو څیز مشکل نه دی، کله چې د ګردو خلقو د بیا ژوندي کولو اراده وفرمایي؛ نو د سترګو د یوه رپ په اندازه به هم څه ځنډ (درنګ) نه لګیږي، همدا چې اراده یې وفرمایي، په یوه طرفة العین کې به ګرد جهان بیا موجودیږي.

تنبيه: د ﴿كَلَمْحِ الْبَصَرِ اَوْ هُوَ اَقْرَبُ﴾ مطلب دا دی چې د عامو خلقو له محسوساتو سره موافق د هغه د سرعت تعبیر د سترګو په رپولو سره وکړی شو، لیکن په واقع کې له دې نه به هم ډېر لږ مدّت کې قیامت قائمیږي، ځکه چې «لمح البصر» په هر حال یو زماني شی دی، او د الله تعالی پر اراده د مراد ترتیب هرومرو (خامخا) فوري او آني دی.

وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِّنْۢ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْـًٔا ۙ وَّجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۸﴾

او الله راوویستئ تاسې له نسونو (ګډو) د میندو خپلو حال دا چې نه پوهېدئ تاسې په هیڅ شي (څیز له خیره او شره) او پیدا کړي (درکړي) یې دي تاسې ته غوږونه او سترګې او زړونه (او نور حواس او نور اسباب) لپاره د دې چې شکر وباسئ (په دغو نعمتونو).

تفسير: یعنې د پیدایښت په وخت کې تاسې په هیڅ شي نه وئ خبر او نه په څه پوهېدئ، پاک الله تاسې ته د علم ذرائع او پوه لرونکی زړه درکړ، چې هر یو د دغو بالذات پخپله هم لوی نعمت دی، او د لکونو نورو نعمتونو د

متمتّع کېدلو وسائل هم دي، که سترګې، غوږونه، عقل او نور حواس اعضاء او جوارح نه وی؛ نو د ګردو ترقياتو ورونه به بندبدل، هومره چې انسان وړوکی لوييږي؛ هغومره د هغه علمي او عملي قوّتونه هم بالتدريج لوييږي او پسې زياتيږي.

أَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرَاتٍ فِي جَوِّ السَّمَاءِ ۚ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا اللَّهُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٧٩﴾

آيا نه ګوري دغه (انسانان) په طرف د الوتونکو (مرغانو) چې مسخّر کړی شوي دي په جوّ (هوا) د اسمان کې، نه ساتي دوی لره (په دې هوا کې له پرېوتلو څخه) مګر الله، بېشکه په دغه (تسخير د مرغانو) کې خامخا دلائل د توحيد دي لپاره د (هغه) قوم چې ايمان راوړي (ځکه چې سترګې د عبرت همدوی لري).

تفسير: يعنې لکه چې بني آدم ته يې د هغه مناسب قوّتونه ورعنايت فرمايلي دي؛ مرغانو او طيورو ته يې هم د دوی له حالاتو سره مناسب فطري قوتونه په وديعت سره ورکړي دي، هر يو الوتونکی پخپله الوتنه کې د الله تعالی تکويني احکامو ته مطيع او منقاد دی، هغوی ته په هيڅ يوې مدرسې کې د الوتلو لوست او ښوونه نه ده ورکړی شوي، الله تعالی د دغو مرغانو او طيورو وزرونه، لکی، منګلې، منښوکې او نور اعضاء او جوراح او حواس داسې جوړ کړي دي، چې په نهايت آسانۍ سره په فضاء او د هوا په منځ کې الوتلی شي، او داسې نه کيږي چې د هغه ثقيل جسم د لطيفې هوا فضاء څيري کړي يا يې وشکوي، او بې اختياره لاندې ولويږي، يا د ځمکې عظيم الشان جذب او رابنکودل هغوی خپل ځان ته راکش کړي، او د هغو د الوتلو مخه ونيسي، د الله تعالی څخه ماسوا بل څوک دي چې دغه طيور بې تکلفه په معمولي ډول سره په فضاء کې ساتي، او د هوا په جو کې يې چپ چاپېر الوځوي؟.

وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّن بُيُوتِكُمْ سَكَنًا وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ الْأَنْعَامِ بُيُوتًا تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ ۙ وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَا أَثَاثًا وَمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴿٨٠﴾

او الله پيدا کړي دي تاسې ته له کوټو (کورونو) ستاسې ځای د هستوګنې (يعنې د خښتې تيږې «ګټې» لرګي او نورو شيانو عمده عمارتونه)، او (الله) پيدا کړي تاسې ته له پوستکو د چارپايانو (څاروو) کورونه چې سپک مومئ تاسې هغه په ورځ د کوچ او سفر ستاسې او په ورځ د اړوولو ستاسې، او (الله پيدا کړي دي تاسو ته) له وړيو د دغو (چارپايانو ګډو) او له وړيو د دغو چارپايانو اوښانو) او د ويښتو (وژغنو) د دغو (چارپايانو بيزو) اسبابونه (د اغوستلو او غوړولو او استعمالولو) او د نفعې اخيستلو تر حين (تر وقته د مړ کېدو ستاسې يا د حيواناتو، يا تر قيامته) پورې.

تفسير: يعنې کله چې د خښتو او د تيږو (ګټو) عمارتونه بل چېرې نشو منتقل کېدی؛ نو د څرمنې او د وړيو او د نورو کېږدی او تمبوګان او خيمې جوړول مو وروښودل، چې په سهولت او آسانۍ سره منتقل کېدی شي، په سفر او حضر کې هر چېرې چې مو زړه وغواړي؛ هلته يې ودروئ، او هر وخت چې مو زړه وغواړي؛ راټول يې کړئ، او يوې خواته يې کېږدئ، ځينو د ﴿يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ﴾ مطلب داسې اخيستی دی چې د تګ په وخت کې او د پورته کولو او ښکته کولو او درولو په وخت کې سپک وي، او هيڅ تکليف او ربړ (زحمت) نه درپېښوي.

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّمَّا خَلَقَ ظِلٰلًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْجِبَالِ اَكْنَانًا وَّجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيْلَ تَقِيْكُمْ بَاْسَكُمْ كَذٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ ﴿۸۱﴾

او الله پیدا کړي دي تاسې ته له هغو څیزونو څخه چې پیدا کړي يې دي سیوري (مثلا د ورېځو، ونو، عمارتونو، غرونو او نورو سیوري له قانونه سره سم پر ځمکه لویږي، چې په هغه کې د حرارت په اوقاتو کې خلق آرام او هوسایي کوي) او (الله) پیدا کړي دي تاسې ته له غرونو څخه ځایونه د پټېدلو (ګاري او سمڅې چې هلته مو سرونه ننباسئ، او له بارانه، له لمره، یا له دښمنانو او نورو څخه مو ځانونه ساتلی شئ)، او (الله پیدا کړي دي تاسې ته) قمیصونه (د پنبې وړیو کتانو او نورو) چې ساتي تاسې له ګرمۍ نه، او (الله پیدا کړي دي تاسې ته) قمیصونه (د اوسپنې او ځغرې) چې ساتي مو (له ضرره) د جنګ ستاسې، همداسې (چې تېر نعمتونه يې تمام کړي دي؛ پوره کوي نعمت (احسان خپل) پر تاسې لپاره د دې چې تاسې اسلام راوړئ (د الله حکم ومنئ).

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۸۲﴾

نو که شا وګرځوله دوی (له اسلامه نو تاته هیڅ ضرر نشته) پس بېشکه چې خبره همدا ده چې پر تا (ای محمده !) رسوونه ده ښکاره.

تفسیر: یعنې که دوی سره د دومره احساناتو د اورېدلو بیا هم د الله تعالی په مقابل کې خپل سرونه ښکته نه کړي، نو تاسې هیڅ غم او اندېښنه مه کوئ ! تاسې خپله فریضه او سپارلې شوې وظیفه اداء فرمایلې ده، او په ډېر صراحت او ښه وضاحت سره مو ګردې ضروري خبرې هغوی ته اورولي دي، وروسته له دې نه د هغوی معامله پاک الله ته وسپارئ !.

يَعْرِفُوْنَ نِعْمَتَ اللّٰهِ ثُمَّ يُنْكِرُوْنَهَا وَاَكْثَرُهُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۳﴾

پېژني دغه (کفار علماً) نعمتونه د الله چې اقرار پرې کوي بیا انکار کوي له هغه څخه (عملاً چې د غیرُ الله عبادت کوي) او زیات د دغو (منکرانو) څخه کافران دي.

تفسیر: یعنې بېشکه ځینې بندګان شکرګذار هم دي ﴿وَقَلِيْلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ﴾ (۲۲ جزء د سبأ سورت (۱۳) آیت (۲) رکوع)، لیکن د اکثرو دغه حال دی چې سره د الله تعالی د انعاماتو او احساناتو د لیدلو او پوهېدلو خو بیا هم د الله تعالی شُکرګذاري او د اطاعت له اظهاره غافلان کاهلان او ذاهلان دي، او شکر يې نه اداء کوي، او احسانات يې هېروي، ګواکې له زړه پرې پوهیږي او عملاً ترې انکار کوي.

وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۸۴﴾

او (وویروه ای محمده ! دغه کفّار له هغې) ورځې چې راپورته به کړو مونږ هر امّت څخه یو شاهد (یعنې په ایمان او کفر د دوی) بیا به نه ورکولی کیږي اذن (حکم د معذرت یا دنیا ته د رُجوع) هغو کسانو ته چې کافران شوي دي، او نه به له دوی نه طلب د استرضاء کولی شي (له الله نه په منلو د توبې سره).

تفسیر: دلته د کفر او ناشکرۍ انجام رابنیي، یعنې په یاد يې ولرئ چې هغه ورځ هم راتلونکې ده چې ګرد (ټول) پخواني او وروستني امتونه به د أحکم الحاکمین په وروستني عدالت کې سره ودریږي، او د هر امت نبي به د ګواه په

ډول درولي کيږي، څو د خپل امت د نېک او بد او مطيع او عاصي په نسبت شهادت ورکړي چې کوم يوه څه معامله کړې ده؟ او د الله تعالى د پيغام حق څرنګه اداء او له انبياوو سره يې څرنګه سلوک کړي دي؟ په دغه وخت کې به دغو منکرانو ته له سره د خبرې اجازه نه وي، او نه به خپلې شونډې پرانستلى شي، يا اوس وروسته له وخته په توبه ايستلو سره څرنګه خلاصېدى شي؟ حال دا چې دوى به پر خپل مجرمتوب او د خپلو د هيڅ قسم ننواتو او معذرتونو نه قبلېدلو باندې پوره خبر او د هغه انکشاف به دوى ته شوى وي، او دوى به په دغه وخت په دې باندې هم پوهيږي چې دا ځاى «دار الجزاء» دى، او «دار العمل» نه دى، چې اوس په پښېمانۍ او توبه ايستلو سره خطاوې وبخښلى شي.

وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ ظَلَمُوا الْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٨٥﴾

او کله چې ووينې هغه کسان چې ظلم (شرک) يې کړي دى (پر نفسونو خپلو) عذاب؛ نو سپک به نه کړى شي له دوى نه (عذاب د دوزخ) او نه به دوى ته مهلت ورکړى شي (لپاره د اعتذار).

تفسير: يعنې نه به د عذاب په سختۍ کې څه تقليل واقع کيږي، او نه به په منځ کې څه وار او مهلت ورکړ شي، سمدلاسه به په بل عذاب کې اخته کيږي، ځينو د ﴿وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ﴾ څخه دغه مراد کړى دى، چې د جهنّم د ليدلو څخه وروسته د يوې دقيقې (منټ) لپاره هم دوى ته مهلت او فرصت نه ورکول کيږي، او جهنّم على الفور ګرد مجرمان خپل طرف ته کش کوي.

وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ أَشْرَكُوا شُرَكَاءَهُمْ قَالُوا رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ شُرَكَاؤُنَا الَّذِينَ كُنَّا نَدْعُو مِن دُونِكَ ۖ فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٨٦﴾

او کله چې ووينې هغه کسان چې شرک يې کړى دى شريکان (بُتان وغيره) خپل؛ نو وبه وايي دغه (مشرکان) اى ربه ځمونږ ! دا دي شريکان معبودان ځمونږ هغه چې وو مونږ چې بلل او عبادت مو کولو (په دنيا کې د دوى) بې له تا نه، نو وبه غورځوي دغه (معبودان) دوى ته خبره چې بېشکه تاسې خامخا دروغجنان يئ.

تفسير: يعنې مونږ د دوى له شامته ووژلى شو، ښايي مطلب يې داسې وي چې مونږ بالذات بې قصوره يو، يا دا چې دوى ته دوچنده سزا ورکړه ! (پس بېرته به وغورځوي خبره د دوى، او دا بتان به هم الله تعالى ګويان کړي، او دغو مشرکانو ته به ووايي چې بېشکه تاسې دروغجنان يئ چې مونږ مو د پاک الله شريکان درولي وو، مونږ کله تاسې ته ويلي وو چې ځمونږ عبادت وکړئ، في الحقيقت تاسې يواځې د خپلو اوهامو او د چټې (بېکاره) خيالاتو په عبادت کې لګيا وئ، چې هغه هيڅ اصل او حقيقت نه درلود، يا د پيريانو او شيطانانو عبادت به مو کولو، مګر هلته شيطان هم په داسې وينا سره له دوى نه ځان بېلوي: ﴿وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ إِلَّا أَن دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي ۖ فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوا أَنفُسَكُم﴾ (۱۳ جزء د ابراهيم سورت (۲۲) آيت (۴) رکوع).

الغرض هغه شيان يې چې خپل معبودان ګرځولي وو؛ هغوى ګرد به د خپل د بېلتون او بېزارۍ اظهار او اعلان له هغو سره کوي، څوک به په ربښتيا سره او څوک به په دروغو سره، تيرې (ګټې) او د نورو شيانو بُتان خو د دغه خبرې څخه په قطعي ډول خپله بېخبري ښکاره کوي، ملائکې او انبياء او صالحين به له شرکه او کفره د خپل د دائمي سخت نفرت اظهار او د خپل د خالصې بندګۍ اقرار کوي، پاتې شول شياطين اګر که د دوى دغه د نفرت اظهار به په دروغو سره وي؛ خو بيا هم له هغه څخه مشرکين به په کُلي ډول مأيوس کيږي، او پخپلو منځونو کې به سره و ايي چې: نن ځمونږ هغه لوى رفيق هم ځمونږ په کار رانغى، او زړه مو پرې ښه نشو.

وَأَلْقَوْا إِلَى اللَّهِ يَوْمَئِذٍ السَّلَمَ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٨٧﴾

او وبه غورځوي دغه (مشرکان) الله ته په دغې ورځې کې صُلحه (او اقرار به وکړي په ګناه خپلې په عاجزۍ سره) او ورک به شي له دوی نه هغه چې وو دوی چې دروغ به يې ترل (پر الله).

تفسير: يعنې ټول شورماشور او طمطراق او افتراء ترل به په هغه وخت کې غائبيږي، ګرد به عاجز او مقهور کيږي، او د الله تعالى په حُضور کې به د اطاعت او انقياد اظهار کوي: ﴿أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ يَوْمَ يَأْتُونَنَا﴾ (۱۶ جزء د مريم سورت (۳۸) آيت، (۲) رکوع).

الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ زِدْنَاهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوا يُفْسِدُونَ ﴿٨٨﴾

هغه کسان چې پخپله کافران شوي دي او اړولي دي دوی (نور خلق هم په دنيا کې) له لارې د الله، زيات به کړو مونږ دوی تـه (په آخرت کې) يو عذاب له پاسه د بل عذاب په سبب د هغه چې وو دوی چې فساد به يې کولو، (چې کفر او منع ده د اسلامه).

تفسير: يعنې يو عذاب د حق په انکار او بل په دې چې نور خلق يې د الله تعالى له لارې څخه منع کړي دي، يا يو عذاب د جرم پر صدور او بل د هغه د عادت اچولو په تعميم باندې، په هر حال له آيت څخه معلوم شو، چې څرنګه په جنت کې د اهل الجنّت منازل او مدارج متفاوت وي، په جهنّم کې به هم د دوزخيانو مدارج له کميّت او کيفيّت او نوعيّت له پلوه سره متفاوت وي.

وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ ۚ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿٨٩﴾

او (ياد کړه ای محمده دوی ته) هغه ورځ چې راپورته به کړو مونږ په هر امّت کې يو شاهد (نبي) په (ويلو او کولو د) دوی باندې له نفسونو (قومونو، قبيلو) د دوی، او رابه ولو مونږ تا (هم ای محمده) شاهد پر دغو کسانو؛ او نازل کړی لږلی دی مونږ پر تا (ای محمده !) کتاب (قرآن چې دی) بيان واضح لپاره د هر (ديني) څيز او هدايت (حق ته) او رحمت دی او زېری (په جنت سره) خاص مسلمانانو ته.

تفسير: يعنې هغه هولناکه ورځ د ياد ساتلو وړ ده، کله چې هر يو نبي به د خپل د امّت د معاملاتو په نسبت د الله جل جلاله په دربار کې بيان ورکوي، او ځمونږ نبي کريم صلى الله عليه وسلم به هم د دې امّت حالات بيانوي، بلکه د ځينو مفسّرينو له قوله سره موافق محمد صلى الله عليه وسلم به د ګردو شهداوو لپاره داسې شاهدي اداء کوي، چې بېشکه دوی خپل منصبي فرائض په ښه شان سره اداء کړي دي.

﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ﴾ الآية ـ يعنې په قرآن کې تمام د هدايت علوم، او د دين اصول، او د دارينو د فلاح په متعلّق ضروري امور او نهايت مکمّل او واضح بيان شته، په دغه کې د قيامت هغه واقعات هم راغلل، چې د هغو ذکر پاس تېر شو، په دغه صورت پر هغه نبي چې داسې جامع کتاب لږلی شوی دی؛ د هغه مسئوليت او ذمه واري به هم ډېره درنه او ثقيله وي، ګواکې د ﴿شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ﴾ څخه وروسته ﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ﴾ يې فرمايلی، د محمد صلى الله عليه وسلم عظيمه مرتبه او د هغې مرتبې سره مناسب د مسئوليت په لوري يې لطيفه اشاره وفرمايله، ﴿فَلَنَسْأَلَنَّ الَّذِينَ أُرْسِلَ إِلَيْهِمْ وَلَنَسْأَلَنَّ الْمُرْسَلِينَ﴾ (۸ جزء د الأعراف سورت (۶) آيت لومړی رکوع)، ابن کثير (رحمه الله تعالى) دغه لږ څه په تفصيل سره بيان کړې ده.

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَآئِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٩٠﴾

بېشكه الله امر (حُكم) كوي په عدل (انصاف كولو) سره، او په احسان (نيكي كولو) سره، او په وركړې سره خاوندانو د خپلوي ته، او منع كوي له قبيحه وو كارونو څخه، او له بدو كارونو او له سركښي څخه، پند دركوي تاسې ته (په دغو اوامرو نواهيو سره) لپاره د دې چې تاسې پند واخلئ.

تفسير: لوی قرآن يې ﴿تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ﴾ فرمايلی وو، دا آيت د هغه يوه نمُونه ده، ابن مسعود رضي الله تعالى عنه فرمايي چې: «الله تعالى د هر يوه خير او شر بيان په دغه آيت كې سره راغونډ كړی دی، ځكه چې هيڅ يوه داسې عقيده، نېک خلق، عمل، معامله، نښه او بد به نه وي؛ چې امراً يا نهياً د دې آيت لاندی كې رانشي».

ځينې علماء ليكي: كه د پاک قرآن بل آيت نه وی؛ نو يواځې همدغه آيت د ﴿تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ﴾ د تثبيت لپاره هم كافي وو.

ښايي د همدې لپاره راشد خليفه عمر بن عبد العزيز (رحمه الله) دغه آيت د جمعې او د عيدينو په آخري خطبې كې درج كړ، او محمدي امت ته يې يوه حسنه أسوه قائمه كړه (رحمه الله تعالى).

د دې آيت د جامعيت پوهولو لپاره د يو مستقل تصنيف ضرورت دی، خو بيا هم لږ څه اندازه دې داسې وكړی شي، چې په دغه آيت كې د درې شيانو امر فرمايلی شوی دی:

(١): عدل، (٢) احسان، (٣) ايتاء ذي القربى:

(١): د عدل مطلب دا دی چې د انسان تمام عقائد ـ أعمال ـ أخلاق ـ معاملات ـ جذبات ـ د اعتدال او انصاف په تله كې تللی شوي، او له افراطه او تفريطه هيڅ يوه پله يې لاندې باندې نه وي، كه له خپل كوم ډېر سخت او غليظ دښمن سره هم معامله كوي؛ ښايي چې د انصاف له اساسه او اصوله وانه وړي ! د ده ظاهر او باطن ښايي چې يو شان وي ! هره هغه خبره چې د خپل ځان لپاره نه غوره كوي؛ هغه دې د خپل بل ورور لپاره هم غوره نه كړي.

(٢): د «احسان» معنى دا ده چې ښايي انسان بالذات د نېكۍ او ښېګڼې (فائدې) مجسمه شي، او د نورو لپاره ښه وغواړي، د عدل او انصاف له مقامه لږ څه پورته شي، او د فضل او عفو او تلطّف او ترحّم عادت ځان ته غوره كړي، د فرائضو د اداء كولو څخه وروسته د تطوّع او تبرّع په طرف قدم واخلي !، له انصافه سره دې مروت جمع كړي ! او يقين دې ولري ! هره هغه نيكي چې دی يې كوي؛ الله تعالى هغه ګوري، او د هغه د لوی دربار د ښېګڼې (نېكۍ) جزاء هرومرو د ښېګڼې په صورت كې وررسيږي !، لكه چې د «صحيح البُخاري شريف» په يوه مبارک حديث كې راغلي دي: «الإحسان أن تعبد الله كأنک تراه، فإن لم تكن تراه فإنه يراک» او په ٢٧ جزء د «الرحمن» سورت په (٦٠) آيت (٣) ركوع كې همداسې يو آيت لولو: ﴿هَلْ جَزَآءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ﴾

(٣): ايتاء ذي القربى، يعنې وركړه او احسان او ښېګڼه كول له خپلوانو سره هم د الله تعالى خوښ دي، واقعاً چې عدل او احسان يا په بل لفظ (انصاف او مروت) خو د خپل ځان او هر خپل او پردي او دوست او دښمن سره متعلق دی، ليكن د اقاربو حق دی له اجانبو څخه څه زيات وپالل شي ! او هغه تعلّقات چې الله تعالى په منځ كې قائم كړي دي؛ د هغه رعايت دې خامخا وكړی شي ! بلكه له اقاربو سره همدردي او له هغه سره مروت او احسان دې له پردیو څخه زيات وكړی شي، «صلة الرحم» يوه مستقله نيكي ده، چې ښايي د اقاربو او ذوي

الأرحامو لپاره درجه په درجه استعمال کړی شي، اوس د دغو دريو الفاظو جامعيت تر نظر لاندې نيولی هر يو پوه سړی فيصله کولی شي؛ چې هغه کومې نورې فطري ښېګڼې او نېکۍ داسې په دنيا کې به پاتې وي، چې د دغو درې فطري له احاطې څخه د باندې وي؟ فلله الحمد والمنّه.

﴿وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ﴾ الآية - يعنې منع هم له درېو شيانو څخه فرمايي:

(١): فحشاء، (٢): منكر، (٣): بغي، يعنې ځکه چې د انسان په وجود کې هم درې قوّتونه شته، چې د هغو د بې موقعه او غلط استعمال څخه ګردې خرابۍ او بدۍ پيدا کيږي:

(١): شهواني بهيمي قوت.

(٢): شيطاني وهمي قوّت.

(٣): سبعيه غضبي قوّت.

غالبًا له «فحشاء» څخه هغه بېحيا خبرې مراد دي چې د هغو منشأ د شهوت او بهيميت افراط وي، «منكر» د «معروف» ضد دی، يعنې هغه نامعقوله کارونه چې ترې سليمه فطرت او صحيح عقل انکار وکړي، ګواکې چې د شيطاني وهمي قوې د غلبې څخه د ملکيه عقلې قوه پرې شي.

درېيم شی يې «بغي» يعنې سرکښي او ياغيتوب دی، چې سړی په بغاوت سره له حده تېر شي او په ظلم او تعدي ملا وترې، او د ځيروونکو ځناورانو په شان ځيرولو، داړلو، شکولو، او ځغليدلو پسې ولويږي، او د نورو د ځان يا د مال - يا پت (عزت او آبرو) او نورو شيانو د نيولو لپاره په ناحقه سره لاس وغځوي، داسې حرکات د خپلو ګردو اقسامو سره د سبعيه غضبي قوت د بېځايه استعمال څخه پيدا کيږي.

خلاصه دا چې په دغه آيت کې يې تنبيه فرمايلې ده، تر هغه پورې چې انسان دغه درې واړه قواوې اداره نه کړي، او په خپل قابو کې يې ونه ساتي، او ملکيه عقلي قوه پر دغو نورو قواوو حاکمه ونه ګرځوي؛ له سره پاک او مهذّب کېدی نشي.

أکثم بن صيفي رضي الله تعالى عنه د دې آيت کريمه د اوربدلو څخه وروسته خپل قوم ته وويل: «زه ګورم چې دغه رسول الله صلى الله عليه وسلم د ګردو عمده وو او اعلى وو اخلاقو حکمونه صادروي، او له يې او سپکو اخلاقو او اعمالو څخه ممانعت کوي، نو د ده په منلو او اطاعت کې جلتي وکړئ» ! «فكونوا في هذا الأمر رؤوسا ولا تكونوا فيه أذنابا» «تاسې په دغه سلسله کې سر شئ ! او لکی مه کېږئ !»، عثمان بن مظعون رضي الله تعالى عنه فرمايي چې: د دې آيت د اوربدلو څخه ځما په زړه کې ايمان راسخ شو، او د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم محبّت مې په زړه کې ټينګ شو.

﴿وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللَّهِ إِذَا عَاهَدتُّمْ وَلَا تَنقُضُوا الْأَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللَّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلًا ۚ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴿٩١﴾﴾

او وفا کوئ تاسې په عهد د الله کله چې په خپلو منځونو کې سره وعده وترئ، او مه ماتوئ تاسې قسمونه وروسته د محکم کولو د هغو حال دا چې په تحقيق ګرځولی دی تاسې الله پر خپلو ځانونو شاهد (ضامن ساتونکی په وفا سره)، بېشکه الله ته معلوم دي هر هغه څه (هم) چې کوئ يې تاسې.

تفسير: په پاس آيت کې د درې شيانو د کولو يا د پرېښودلو حکم وشو، اوس د هغه ځينې افراد بالتخصيص بيان فرمايي، يعنې د عهد د ايفاء تأکيد، د غداری او بد عهدۍ څخه ممانعت چې دغه شی علاوه پر دې چې په «في نفسه»

مهتم بالشان دی؛ د هغه وخت مخاطبینو له حاله سره زیات مناسب وو، او د هغه اثر د مسلمانانو اقوامو پر عروج او ترقی او د هغو د مستقبل بري او کامیابی باندې لوېدونکی وو، نو ځکه یې حکم وکړ، لکه چې د الله تعالی نوم یادوئ، او قسمونه پرې خورئ، او معاهده پرې تړئ، نو د الله تعالی د نامه حُرمت او عزّت په ښه شان سره وساتئ ! که له کوم قوم یا له کوم سړي سره مو معاهده وي (په دې شرط چې خلاف الشرع نه وي)؛ نو ستاسې او د هر مسلمان وظیفه دا ده چې هغه پوره کړئ، اګر که د هغې په ایفاء کې ډېر مشکلات او مصاعب هم درپېښ شي.

وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ أَنْكَاثًا تَتَّخِذُونَ أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ أَنْ تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ ۚ إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ اللَّهُ بِهِ ۚ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٩٢﴾

او مه کېږئ تاسې (په نقض د عهد کې) په شان د هغې (ښځې) چې ببرته به یې اومه کول تارونه وریشلي خپل وروسته د محکم والي (د هغه په تاوولو د هغو سره) حال دا چې توتې توتې وي، حال دا چې نیسئ تاسې عهدونه خپل دخل (پلمه، ټکي، مکر، خیانت) (یو له بل سره) پخپلو منځونو کې، په سبب د دې چې شوه به یوه ډله دغه ډېره زیاته له هغه بلې ډلې څخه (نو تاسې به خپل عهد ماتوه، له یوې ډلې سره به یو ځای کېدی)، بېشکه همدا خبره ده چې آزموېي تاسې الله په (وفا د) دغې (وعدې) سره؛ او خامخا بیان به کړي هرومرو (الله) تاسې ته په ورځ د قیامت کې هغه شی چې وئ تاسې چې په هغه کې مو سره اختلاف کولو (په جزاء درکولو سره).

تفسیر: یعنې له عهد ترلو څخه وروسته د هغه ماتول داسې د حماقت کار دی، لکه چې کومه ښځه ټوله ورځ تار وریشي، وغړي، بیا دغه خپل جوړ، تیار وریشلی شوی تار یا اوبدلي یا ګنډلي کالي (کپړې) د ماښام په وخت کې ببرته اومه کړي، یا یې بیخي وشلوي، یا یې وشکوي او توتې توتې یې کړي، لکه چې په مکې معظمې کې یوې لېونۍ ښځې (ریطه بنت سعده) نامې به همداسې کول، مطلب یې دا دی چې لکه د اوم تار په شان د معاهداتو ګنډل چې هر کله مو زړه وغواړي همغسې یې وریشئ، او هر کله چې مو زړه وغواړي، د خپلو ګوتو په یوه ادنی حرکت یې وشکوئ؛ نو دغه سخت ناعاقبت اندیشي او لېونتوب دی، که هر لفظ او قول او عهد او پیمان ته اعتبار نشي پاتي؛ نو د دنیا نظام بیخي خراب او مختل کیږي، هغه اقوام چې د عدل او انصاف له قانونه مخ اړوي، او محض د خپلو اغراضو او خواهشو پسې تل ګرځي؛ نو د دوی په نزد د معاهدې ماتولو لپاره ترلې کیږي، او هر کله چې خپل معاهد قوم کمزوره او ناتوانه وویني؛ نو ګرد معاهدات څیروي، او د ردیو په توکرئ کې یې غورځوي (پاک الله د دې بد عادت) په نسبت داسې فرمایي: معاهدې او قسمونه د فریب ـ دغابازی، مکاری، پلمې، او حیلې آله مه جوړوئ ! لکه چې د اهل جاهلیت عادت وو: څه مهال چې کوم جماعت به یې له خپلو ځانونو څخه قوي او طاقتور لیدل؛ نو سمدلاسه به یې د هغوی سره خپله معاهده غوټه کوله، خو هر کله چې د دغو خلفاوو د کمزور کولو او د خپلو ځانونو د لویولو لپاره کوم فرصت او موقع یې په لاس ورتله، نو سمدلاسه به یې هغه معاهدات ماتول، او هغه ګرد قسمونه او حلفونه به یې د هېرې په تاخچه کې کېښودل، کتمټ (هوبهو) لکه هغه وضعیت چې نن پرون د اروپایي اقوامو معتاد او معمول دی.

وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَٰكِنْ يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ ۚ وَلَتُسْأَلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾

او که اراده فرمایلي وی الله؛ نو خامخا ګرځولي به یې وئ تاسې یو امت (یو ټولی متفق په اسلام)، ولیکن (پاک الله) ګمراه کوي هر هغه څوک چې اراده وفرمایي (د ګمراهۍ یې)، او په لاره

(د حق) برابروي هر هغه څوک چې اراده وفرمايي (د هدايت يي)، او خامخا وبه پوښتپدلی شئ تاسې هرومرو له هر هغه عمله چې وئ تاسې (په دنيا کې) چې کولو به مو.

تفسير: يعنې الله تعالى په دې باندې قادر وو، چې اختلاف ته به يې له سره لاره نه ورکوله، مګر حکمت يې د دې خبرې مقتضي نشو، لکه چې مو په څو څو مواقعو کې دغه تقرير کړی دی، شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «له دې نه معلومه شوه چې له کافر سره دې هم غدر او بد عهدي ونه کړی شي، کفر په دغو خبرو نه لري کيږي، مګر د دغې چارې د کولو ګناه او وبال د ده پر عامل باندې لويږي.

وَلَا تَتَّخِذُوٓا أَيْمَٰنَكُمْ دَخَلًۢا بَيْنَكُمْ فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ بَعْدَ ثُبُوتِهَا وَتَذُوقُوا۟ ٱلسُّوٓءَ بِمَا صَدَدتُّمْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٩٤﴾

او مه نيسئ تاسې قسمونه خپل (وعدې خپلې) دخل (مکر او فريب) پخپلو منځونو کې، نو وبه ښويږي قدم (ستاسې د لارې د اسلامه) وروسته له ټينګښدو د هغه، نو وبه څکئ غم او رنځ په سبب د منع کولو ستاسې نورو خلقو لره له لارې د الله نه (يعنې د نه وفا په وعدې باندې)، او شته تاسې ته عذاب لوی (ای متخلفينو د وعدې په آخرت کې).

تفسير: يعنې په عهد ماتولو او قسم يادولو سره د بد عهدۍ لاره مه پيدا کوئ، او په دې سره اسلامي قوم مه بدناموئ، چې ستاسې له دغسې خراب او ټيټ (لاندې) سپک وضعيت د ليدلو څخه يقين راوړونکي به په شک کې لويږي، او غير مسلم اقوام به د اسلام له دُخوله ستانه (واپس) کيږي، او پر تاسې د الله له لارې د امتناع ګناه په غاړه کيږي، چې د هغه سزا به ډېره سخته وي.

وَلَا تَشْتَرُوا۟ بِعَهْدِ ٱللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۚ إِنَّمَا عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٩٥﴾

اومه پېرئ (مه اخلئ) په عهد د الله (په لفظ د الله تعالى) قيمت لږ (پيسې لږې)، بېشکه هغه (ثواب) چې په نزد د الله کې دی همغه خير (غوره) دی تاسې ته، که چېرې يئ تاسې چې پوهېږئ (پخير خپل).

تفسير: پخوا له دې نه پخپلو منځونو کې د قول ماتولو ذکر وو، اوس د الله تعالى سره د قول ماتولو ذکر دی، يعنې د مال په طمع خلاف الشّرع حکم مه کوئ، ځکه چې بالآخر دغسې مال د ځان وبال ګرځي، هر هغه شی چې د شرعې سره موافق ستاسې په لاسونو کې راشي؛ همغه بهتر دی، کذا في «موضح القرآن»، يا د ايفاء العهد کوم اجر چې د الله تعالى له درباره ورکاوه کيږي، هغه د دغه قليل ثمن څخه ډېر بهتر دی، ثمن يې ځکه قليل وفرمايه؛ چې که ګرد جهان هم ورکړ شي، خو بيا هم هغه د آخرت په مقابل کې قليل او حقير دی.

مَا عِندَكُمْ يَنفَدُ ۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ بَاقٍ ۗ وَلَنَجْزِيَنَّ ٱلَّذِينَ صَبَرُوٓا۟ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾

هغه (مال د دنيا) چې تاسې سره دی؛ فناء کيږي، او هغه (خزانې د رحمت) چې الله سره دي؛ باقي دي (فناء نه لري)، او خامخا به جزا ورکړو مونږ هرومرو هغو کسانو ته چې صبر يې کړی دی (په طاعت او مصيبت او له معصيت نه) اجر د دوی په ډېرښه د هغو د نېکيو سره چې وو دوی (په دنيا کې) چې کولې به يې.

تفسير: بيا نو د دائم او باقي پرښودل، او د فاني او زائل خوښول د کوم ځای عقلمندي ده، يعني هغه کسان چې د الله تعالى پر عهد ثابت قدم پاتې کيږي، او ګرد مشکلات او مصاعب په صبر او استقامت سره پر ځان اخلي، د هغه اجر له سره ضائع کېدونکی نه دی، او د داسې ښو اعمالو بدل هرومرو ځمونږ له درباره ورکولی کيږي.

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٩٧﴾

هر چا چې و کړ نېک (عمل) له نارينه ځخه يا له ښځې ځخه حال دا چې دی مؤمن وي؛ نو خامخا ژوندون به ورکړو هرومرو هغه ته ژوندون طيبه (پاکيزه)، او خامخا جزاء به ورکړو هرومرو دوی ته اجر د دوی په ډېر ښه، په سبب د هغو (نېکيو) سره چې وو دوی (په دنيا کې) چې کولې به يې.

تفسير: په پاس آيت کې د صابرينو او پر عهد باندې د وفاء کوونکيو د اجر ذکر وو، دلته د ګردو صالحه وو اعمالو په متعلق يوه عمومي ضابطه بيان فرمايي، حاصل يې دا دی: هر هغه نارينه يا ښځه چې په نېکو کارونو کې معتاد شي، په دې شرط سره چې هغه کار يوائې صورتاً نه، بلکه حقيقتاً نېک وي، يعني د ايمان او د صحيحه معرفت روح پخپل منځ کې ولري؛ نو مونږ به هغه ته هرومرو پاک، صاف، مطهر، او خوندور ژوندون ورعنايت کوو، مثلاً په دنيا کې حلاله روزي، قناعت، د زړه غناء، سکون، طمانيت، د ذکر الله لذت، د الله تعالى د محبّت خوند، د عبوديت د فرض په اداء کې خوښي، د کامياب مستقبل د تصور هغه مزه او د تعلق مع الله هغه حلاوت ورکوو.

تنبيه: په دغه آيت کې يې دغه راوښود چې د لوی قرآن په نظر کې د ښځو او د نارينه وو د نيکۍ او کامياۍ لپاره يوه ضابطه ده، يعني نارينه او ښځه بې له امتيازه د خپل حسب الحال سره سم په نيکۍ کولو سره پاک او مطهر ژوندون حاصلولی شي.

فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ﴿٩٨﴾

نو کله چې لولې (ته) (پاک) قرآن؛ نو پناه وغواړه په الله له شيطان رټلي شوي (په شعلو سره).

تفسير: په حديث کې راغلي دي: «خيركم من تعلم القرآن وعلمه»، «ډېره غوره له ستاسې هغه څوک دی چې قرآن زده کوي، او نورو ته يې هم ورښيي»، معلوم شو چې د مؤمن لپاره د لوی قرآن قرائت ډېر ښه کار دی، او په پخوانيو آياتو کې پر ښو کارونو د دوو ځلو اجر ورکولو ذکر شوی وو، نو ځکه دلته د قرآن د قرائت د ځينې آدابو تعليم فرمايي، څو کوم سړی د بې احتياطۍ د دغه ډېر ښه کار له اجره بې برخې پاتې نشي، او خپل ثواب ضايع نه کړي، د شيطان زيار (محنت) او کوښښ تل په دغه کې دی، چې د انسانانو ښو کارونو ته نقصان ورسوي، تر څو يې تر ې ستون کړي، خصوصًا د لوی قرآن د قرائت په شان د يوه داسې متبرک او مقدس کار ځخه چې د ګردو نېکيو سرچينه ده؛ هرومرو ممانعت کوي، او په سړه سينه ورته نشي کتلی، نو کله چې مؤمن د قرآن دغه د قراءت اراده کوي؛ نو ړومبی دې د زړه په صدق سره پر الله تعالى اعتماد او توکل وکړي، او د مردود شيطان د پلمو (تدبيرونو) او وسوسو ځخه دې پاک الله پورې پناه ونيسي: «أعوذ بالله من الشيطان الرجيم».

تنبيه: څرنګه چې د پاک قرآن ابتداء په «تعوّذ» سره مسنونه ده؛ نو ځکه هر لوستونکي ته ښايي چې پخوا د عظيم الشأن قرآن له لوستلو ځخه «تعوّذ» ووايي، د «تعوّذ» مأثوره عبارت هم داسې دی لکه چې پاس وليکل شو، معنی يې دا ده چې: «پناه غواړم په الله تعالى له شره د شيطان رټلي شوي».

إِنَّهُۥ لَيْسَ لَهُۥ سُلْطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٩٩﴾

بېشكه دا (شيطان) نشته ده ته (هيڅ قدرت) تسلّط او غلبه پر هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى، او پر رب خپل توكّل (اعتماد) كوي.

تفسير: يعنې هر څوك چې پر پاك الله اعتماد او توكل وكړي، او له هغه څخه پناه وغواړي، پر هغه، شيطان په زور او قوّت سره نه حاوي كېدى شي، كه داسې كوم سړى تش د څه لږ وخت له مخې د بشريت په مقتضى د شيطان په پلمه (تدبير) كې ولويږي، خو بيا هم شيطان پرې خپله كامله قبضه او تسلّط نشي قائمولى، او ډېر ژر به د ده ستركې د همدغې استعاذې پر بركت خلاصيږي، او غفلت به يې نه متمادي كيږي، لكه چې په (۹ جزء د الأعراف سورت په (۲۴) ركوع (۲۰۱ـ ۲۰۲) آيت كې راغلي دي: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ إِذَا مَسَّهُمْ طَٰٓئِفٌ مِّنَ ٱلشَّيْطَٰنِ تَذَكَّرُوا۟ فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ * وَإِخْوَٰنُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِى ٱلْغَىِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُونَ﴾

إِنَّمَا سُلْطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُۥ وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ مُشْرِكُونَ ﴿١٠٠﴾

بېشكه خبره همدا ده چې تسلّط د شيطان پر هغو كسانو دى چې دوستي كوي دوى له ده سره، او پر هغو كسانو دى چې دوى له دغه (الله) سره شريك ګرځوونكي دي (د بل شي).

تفسير: يعنې هغه كسان چې په لوى لاس شيطان خپل ملګرى او رفيق وګرځوي، او د دې په ځاى چې پر پاك الله اعتماد او توكل وكړي، پر شيطان زړه تړي، او پرې مطمئن او ډاډه كيږي، ګواكې شيطان له الله تعالى سره شريك دروي، يا د ده په اغواء سره نور شيان له الله سره شريك كوي، نو پر داسې افرادو د شيطان پوره قبضه او تسلط دى، او په هر ډول يې چې زړه وغواړي، د خپلو ګوتو په اشارو سره يې دې خوا او هغې خوا ته نخوي او ګډوي، او هر لوري ته چې زړه يې وشي بيايي يې.

وَإِذَا بَدَّلْنَآ ءَايَةً مَّكَانَ ءَايَةٍ ۙ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوٓا۟ إِنَّمَآ أَنتَ مُفْتَرٍۭ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾

او كله چې بدلوو مونږ (راليږو كوم ناسخ) آيت په ځاى د (بل منسوخ) آيت (لمصالح الوقت) حال دا چې الله ته ښه معلوم دى هغه څه چې راليږي؛ نو وايي دا (كفّار نبي ته) بېشكه همدا خبره ده چې ته دروغ ترونكى يې (په الله)، بلكه زيات د دوى نه پوهيږي (په حكمت د نسخې).

تفسير: پخوا يې حكم وركړ چې د قرآن عظيم الشأن د لوستلو په وخت كې د شيطان رجيم له تګې توري څخه پناه وغواړئ چې هغه په دغه ښه او مبارك كار كې څه موانع او مشكلات دروړاندې نه كړي، دلته د هغه د ځينو موانع ذكر كوي، چې د پاك قرآن په متعلّق يې هغه پيدا كوي، واقعه خو دا ده چې پوره قرآن خو يو ځلي نه دى نازل شوى، بلكه موقع په موقع د هغه آيات نازلېده، مثلاً په اول كې يې د كفّارو له قتاله ممانعت فرمايلى وو، څه مدّت وروسته مسلمانانو ته امر وركړ شو، چې له كفّارو او مشركانو سره جهاد وكړي، يا په ابتداء كې يې حكم فرمايلي وو: ﴿قُمِ ٱلَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا نِّصْفَهُۥٓ﴾ الآية ـ لږ مدّت وروسته په همغه «معظمه مكه» كې دغه آيت نازل شو: ﴿عَلِمَ أَن لَّن تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَٱقْرَءُوا۟ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ﴾ الآية.

كفّارو د داسې احكامو د اوربدلو څخه اعتراض كولو، چې دغه څرنګه د پاك الله كلام كېدى شي؟ آيا الله تعالى (معاذ الله) له بېخبرۍ څخه د هغې يوې خبرې حكم در كړى وو؟ بيا چې خبر شو نو بل حكم يې صادر كړ؟ معلوميږي

چې دغسې خبرې ته له خپله ځانه جوړوې، که نه د الله تعالى کلام له سره پر دغسې احکامو نشي مشتملېدى، چې يوه ورځې يو شى ووايي، او بله ورځ بله شى ووايي، ممکن وو چې هم داسې وساوس او شبهات شيطان د ځينو مسلمانانو په زړونو کې القاء کړي، نو د هغه ځواب ورکوي چې دغه ستاسې اعتراض محض جهالت او ناداني ده، که تاسې ته د نسخې حقيقت معلوم وى؛ نو له سره به مو داسې الفاظ له خپلې ژبې ځخه نه وې ايستلې.

د نسخې مطلب تش هم دغومره دى چې د يوه ميعادي حکم د ميعاد د پوره کېدلو ځخه وروسته بل حکم ولېږلى شي، آيا که يو طبيب د لسو يا شلو ورځو لپاره د منضج نسخه تجويز کړي، او وروسته له هغه د مسهل تجويز وکړي، نو دغه تجاويز د هغه طبيب پر لا علمى محمول کولى شي؟ يا که هغه سړى چې داسې خبرې کوي پخپله جاهل او ناپوه دى؟ الله تعالى ته پخپله ښه معلوم دي چې په هر وخت کې هر حکم يې نازل فرمايلى دى؛ همغه درست او صحيح دى، يعنې هغه روحاني غـذاء يا دواء چې تجويز کړى شوې ده، تر کوم حده پورې د رُوحاني مريضانو له مزاجه او حالاتو سره مناسبه ده؟.

قُلْ نَزَّلَهُ رُوحُ الْقُدُسِ مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۰۲﴾

ووايه (اى محمده دغو کفارو ته چې) نـازل کړى دى دغه (قرآن) روح پاک (جبريل) (له طرفه) د رب ستا په حقه سـره، لپاره د دې چې ثابت کړي (په حقّانيت د قرآن) هغه کسان چې مؤمنان دي او هدايت دى او زېرى (د جنّت) دى لپاره د مسلمانانو.

تفسير: يعنې دغه ځما يا ځما پشان د کوم بل انسان جوړ کړى کلام نه دى، دا خو هغه کلام دى چې بلا شبهه ځما رب د روح القدس جبريل الأمين په ذريعه د حکمت او مصلحت سره موافق پر ما باندې نازل فرمايلى دى، ځکه چې ﴿مِنْ رَّبِّكَ﴾ يې وويل، او تنبيه يې وفرمايله چې د دغه لوى قرآن نازلوونکى هغه أعلى او أرفع او أقدس ذات دى، چې پخپله محمد صلى الله عليه وسلم يې په داسې يوې حيرت انګېزې طريقې سره او په داسې اعلى او اکمل اخلاق سره تربيه وفرمايه، چې ستاسې په مقابل کې دى، او د روح القدس د بيان فرمايلو ځخه ښايي چې په دې لوري اشاره وي، هغه کلام چې حامل يې ﴿رُوحُ الْقُدُسِ﴾ ځکه ځولى شوى دى، ښايي چې د روحانيت، طهارت، او د ملکيه وو صفاتو مجسمه وي، لکه چې وى ځکه چې په دغه شان او اوصاف تر اسمان لاندې بل داسې افصح ابلغ او معجز کلام په نظر نه راځي، او دغه قرآن يې ځکه نازل فرمايلى چې ټينګ کړي په حقيقت د دې کلام باندې زړونه د هغو کسانو چې ايمان يې راوړى دى، يعنې موقع په موقع او په تدريج سره د احکامو او آياتونو د نزول د ليدلو ځخه د ايمان لرونکي زړه قوي او اعتقاد يې پخېږي.

وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ اِنَّمَا يُعَلِّمُهٗ بَشَرٌ ؕ لِسَانُ الَّذِيْ يُلْحِدُوْنَ اِلَيْهِ اَعْجَمِيٌّ وَّهٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۱۰۳﴾

او خامخا په تحقيق ښه معلوم دي مونږ ته؛ چې بېشکه دوى وايي چې: بېشکه همدا خبره ده چې ښوونه کوي ورته انسان (او په واقع کې داسې نه دي ځکه چې) ژبه د هغه سړي چې دوى نسبت د ښوونې کوي هغه ته عجمي ده، او دغه قرآن په ژبه د عربي ده ښکاره (فصيحه، بليغه چې د عجمي کړکېچونو ځخه بيخي مبرّا ده).

تفسير: يعنې منکرانو به ويل چې (العياذ بالله) لوى قرآن د الله تعالى کلام نه دى، که نه نسخ به په دغه کې ولې واقع کېدى، او نه دغه اى محمده ! ستا کلام کېدى شي، ځکه چې ستا اميتوب خو ځکردو ته معلوم او مسلّم وو، يو داسې

امي چې نه يې لاس پر کوم کتاب لګېدلی وي، او نه يې قلم پخپل لاس اخيستی وي، بلکه سره له اعلی درجې قريشي توبه تر ځلويښتو کلو پورې يو شعر يې هم پر ژبه نوي جاري شوی، چې په شعر ويلو کې د عربو تر وړکيو پورې هم فطري مهارت او ذاتي لياقت درلود، نو دغه به څوک وي؟ چې د هغه د دغه بې نهايته قابليت څخه د دغه عظيم الشأن قرآن پشان يو مستطاب کتاب تيار شوی دی.

د ده په نامه د منکرينو په زعم اختلافات وو، د جبر، يسار، عائش، يعيش، څو تنو عجمي مريو په نسبت ويلي شوي دي چې هغوی نصرانيت پريښی او د اسلام مذهب يې قبول کړی وو، وايي چې دوی کله نا کله د رسول الله صلی الله عليه وسلم په حضور مشرّف کېدل، يا به پخپله رسول الله صلی الله عليه وسلم دوی ليدل، په هر حال د مشرکينو د دغه سفاهت د اعتراض څخه دغه خبره خو ضرور ثابته شوه، چې د بعثت څخه پخوا محمد صلی الله عليه وسلم اُمّي او نالوسته وو، او د دوی په زعم دغه يوه منلې شوې خبره وه چې قرآني علوم او معارف د دوی د مسلّمه اُميت سره بيخي نشي تطبيق کېدی، نو ځکه د دغې خبرې ويل لازميږي، چې بل کوم سړی دغه عالي خبرې ورښيي، بلا شُبهه چې ځمونږ پاک رسول الله ته هم بل څوک دغه مقدّسې خبرې ورښوولې وي، ليکن دغه ښوونکی کوم يو بشر او انسان نه وو، بلکه هغه ځمونږ دغه قدير رب دی چې پخپله داسې ارشاد فرمايي: ﴿اَلرَّحْمٰنُ * عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ﴾، ﴿لِسَانُ الَّذِیْ یُلْحِدُوْنَ اِلَیْهِ اَعْجَمِیٌّ﴾ الآية.

يعنې که تاسې د لوی قرآن په خارقه علومو او د هغه د اعجاز په نورو وجوهو باندې د خپل جهالت او غباوت لامله نه پوهېږئ، نو د هغه د ژبې له اعجازه، د ده د فصاحت او بلاغت ادراک خو لږ څه کولی شئ، چې د هغه په متعلق څو ځلې تاسې ته دعوت درکړ شوی دی، او د دغې خبرې اظهار او اعلان په تکرار سره شوی دی، چې که ټول پېريان او انسانان متفقاً سره راټول شي؛ نو د دغه کلام يوه لږه نمونه او مثال هم نشي راوړاندې کولی، نو بيا د دې کلام چې د هغه نظير او مماثل راوړلو څخه د عربو ټول شعراء، فصحاء، بلغاء او پوهان بلا استثناء ګرد سره عاجز او پاتې وي؛ نو يو مجهول او معلول بازاري اعجمي مريي څخه څرنګه داسې يوه هيله (اميد) کېدی شي، چې داسې يو معجز کلام به له خپله ځانه جوړولی شي؟ که په تمامو عربو کې کوم سړي بالفرض داسې کلام جوړولی شوی؛ نو هغه هم دا ځمونږ محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم وو، مګر ما سوا له عظيم الشأن قرآنه د محمد صلی الله عليه وسلم کلام بله لويه ذخيره موجوده ده، چې د لوی قرآن د موضوعاتو بيان يې کړی دی، چې سره له خپله انتهايي فصاحت د پاک قرآن له يوه وړوکي سورت سره هم برابرې نشي کولی.

اِنَّ الَّذِیْنَ لَا یُؤْمِنُوْنَ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ ۙ لَا یَهْدِیْهِمُ اللّٰهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۱۰۴﴾

بېشکه هغه کسان چې نه راوړي ايمان په آيتونو د الله (او نه وايي چې دا له طرفه د الله دی) نه ښيي دوی ته الله (لاره د نجات او جنت) او شته دوی ته عذاب دردناک.

تفسير: يعنې سره د ښکاره وو دلائلو له وجوده که يو سړی دغه خبره په خپل زړه کې ټينګه کړي، چې زه به خامخا پرې باور او يقين نه کوم، نو الله تعالی هم هغه ته تر مقصده پورې د رسېدلو لاره نه ورښيي، او هغه ګردې قواوې ترې سلبوي، ځومره چې وپوهولی شي؛ له سره به پرې ونه پوهيږي، بد اعتقاده سړی تل له هدايته بې برخې پاتې کيږي، او بالآخر د سختو سزاوو مستحق ګرځي.

اِنَّمَا یَفْتَرِی الْكَذِبَ الَّذِیْنَ لَا یُؤْمِنُوْنَ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۰۵﴾

بېشکه همدا خبره ده چې ترې دروغ هغه کسان چې نه راوړي ايمان په آيتونو د الله (چې قرآن دی)، او همدغه کسان همدوی دي دروغجنان.

مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ وَلَٰكِنْ مَنْ شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِنَ اللَّهِ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۱۰۶﴾

هر څوک چې کافر شو پر الله وروسته له ایمان راوړلو د ده، مګر هغه څوک چې زور پرې وکړی شو (او مجبوراً د کفر کلمه یې وویله) حال دا چې زړه د ده آرام نیوونکی وي په ایمان سره، ولیکن هغه څوک چې ارته کړي په کفر سره سینه (خپله چې راضي شي پرې اعتقاداً نو پر دوی باندې غضب دی له (طرفه د) الله، او شته دوی ته عذاب لوی (اخروي په سبب د ارتداد).

تفسیر: یو خو هغه مجرمان دي چې د سلهاوو دلائلو او آیتونو په لیدلو هم نه متیقن کیږي، مګر له دوی څخه ډېر لوی مجرم هغه دی؛ چې د یقین راوړلو او تسلیم کولو څخه وروسته د شیطاني شبهاتو او وساوسو څخه متأثر شي، او له صداقته انکار وکړي، د داسې کسانو سزا وروسته بیا بیان فرمایي.

په مـنځ کې په ﴿إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ﴾ الآیة ـ کې یوه ضروري استثناء یې وفرمایله، یعنې که کوم مسلمان د زړه په صدق سره برابر په ایمان قائم وي، او د یوې لمحې له مخې هم ایماني رښا او قلبي طمأنیت د ده له زړه څخه بېل شوی نه وي، مګر تش په کوم خاص حالت کې د کوم خورا ډېر زور او جبر او زبردستی لامله مجبور شي، او د ډېر شدید خوف له سببه د خپل ژوندانه ساتلو له خاطره تش په ژبه منکر شي، یعنې کومه کلمه د اسلام په خلاف ووایي، خو په دې شرط چې په دغه وخت کې یې هم زړه مطمئن او هیڅ قسم شک، شبهه او تردد په کې نه وي، بلکه د دغه ژبې د الفاظو په نسبت هم سخت کراهیت او نفرت ولري، نو داسې شخص مرتد نه دی، بلکه خامخا مسلمان ګڼلی کیږي، هو ! له دې نه لوی مقام او لوړه مرتبه دا ده چې انسان مړ ک قبول کړي، خو د خپلې ژبې څخه داسې یو لفظ نه باسي، لکه چې د بلال، یاسر، سمیّه، حبیب بن زید الأنصاري، او عبد الله بن حُذافه رضي الله عنهم او د نورو واقعات په تواریخو او سیرتونو کې شته، او مونږ د اختصار په اعتبار دلته هغه نشو لیکلی، نبه خو به دا وي چې د دغو مطالبو د پوهېدلو لپاره تفسیر ابن کثیر ولوستل شي.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا عَلَى الْآخِرَةِ وَأَنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿۱۰۷﴾

دا (لوی اخروي عذاب) په سبب د دې دی چې دوی غوره کړی دی ژوندون لږ خسیس پر (اعلی ژواندانه د) آخرت، او بېشکه الله نه ښیي لاره (د استقامت) قوم کافرانو ته.

تفسیر: یعنې داسې منکرانو ته چې دنیوي ژوندون د خپل مقصد کعبه وګرځوئ؛ د بري او کامیابی لار کله په برخه کیږي.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَأَبْصَارِهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ ﴿۱۰۸﴾

دا (کفّار) همغه کسان دي چې مهر وهلی دی الله پر زړونو د دوی (چې نه قبلوي حق) او په غوږونو د دوی (چې نه اوري حق) او په سترګو د دوی (چې نه ویني آثار د قدرت)، او دغه کسان همدوی دي غافلان (له عُقبی).

لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿۱۰۹﴾

دا خبره واقعي ده بلا شُبهه چې بېشکه دوی په آخرت کې همدوی دي زیانکاران (چې عمر یې حبطه لاړ).

تفسير: يعني هغه كسان چې د خپلو بې اعتدالیو او غلط کارونو څخه د پاک الله ورعطاء کړي قوتونه تباه او بېکاره کړي وي، او تش دنیا یې د خپل مقصود کعبه ګرځولي وي؛ نو له هغوی څخه بد او خراب انجام به د بل چا وي؟.

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا فُتِنُوا ثُمَّ جَاهَدُوا وَصَبَرُوا إِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿۱۱۰﴾

پس له دې بیا بېشکه رب ستا لپاره د هغو کسانو چې هجرت یې کړی دی (له خپله وطنه) وروسته له هغه چې مفتون شوي دي (په عذابونو) بیا جهاد یې کړی دی او صبر یې کړی دی، بېشکه رب ستا وروسته له دغه (هجرت، جهاد او صبر) نه خامخا ښه مغفرت کوونکی دی، ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: په مکې معظمې کې ځینې کسان د کافرانو له ظلم او تیري څخه ښوییدلي وو، یا تش په ژبه یې د کفر لفظ ویلی وو، وروسته له هغه یې هجرت او جهاد وکړ، او په ډېر استقلال او استقامت پر اسلام قائم پاتې شول، کله چې دوی دومره په اسلامي کارونو کې برخه واخیسته؛ نو هغه تقصیر یې ورمعاف شو، او د الله تعالی مهرباني پرې مبذوله شوه.

یو صحابي وو چې «عمّار بن یاسر» رضي الله عنه نومیده، د ده پلار «یاسر رضي الله تعالی عنه» او مور «سُمیّه رضي الله تعالی عنها» وه، چې دغه مېړه (خاوند) او ښځه دکفّارو د ډېر ربړولو (تکلیفولو) او رنځ او درد رسولو لامله اکثر که شهیدان شول، خو بیا هم د کفر یو لفظ یې هم ونه وایه، دغه د مسلمانانو ړومبی ویني دي چې د اسلام په لاره کې تویې شوې، لیکن د دوی ځوی «عمار رضي الله تعالی عنه» د خپل ځان له وېرې هغه لفظ ووایه، خو وروسته له نجاته په ژړا او انګولا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور مشرّف شو، نو دلته دغه پاس آیت نازل شو، رضي الله تعالی عنهم أجمعین.

يَوْمَ تَأْتِي كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ عَنْ نَفْسِهَا وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَا عَمِلَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿۱۱۱﴾

(یاد کړه ای محمده !) هغه ورځ چې رابه شي هر یو (نېک او بد) نفس چې جګړه (سوال او ځواب) به کوي لپاره د (نجات د) ځان خپل، او پوره به ورکړ شي هر نفس ته (جزاء د) هغه عمل چې کړی یې دی حال دا چې په دوی باندې به ظلم ونه کړ شي (په تقلیل د حسناتو یا تکثیر د سیئاتو).

تفسير: یعني د یوه په ځای به بل څه نشي ویلی، مور، پلار، خور، ورور، ښځه، اولاد، احباب او اقارب هیڅوک به نه پکاریږي، هر سړی به پخپل غم او فکر کې اخته وي، چې څه ډول د خپل ځان لپاره یو مخلص پیدا کړي، راز راز دروغ او رښتیا خبرې به د خپل ځان د برائت او عذر لپاره جوړوي، او جواب او سوال او جګړې به کوي، چې د ځان لپاره نجات حاصل کړي.

وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللَّهِ فَأَذَاقَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ ﴿۱۱۲﴾

او بیانوي الله مثل د یو کلي چې وو دا په امن کې، په آرام (او هوسا اهل د دې)، چې راته دغه کلي ته رزق روزي (د اهل) د دې ډېره پربمانه له هر ځایه (له هره طرفه)، نو کافر (ناشکره) شو (اهل د) هغه په نعمتونو د الله؛ نو وځکاوه په (اهل د) دې باندې الله کالي (کپړې) د لوږې او وېرې

(چې لوږه او وېره يې پرې لازمه او محيطه وګرځوله لکه جامه) په سبب د هغو (عملو) چې وو دوی چې کول به يې.

تفسير: ﴿اٰمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً﴾ يعنې نه د باندې د دښمن څه فکر او اندېښنه وه، او نه د دننه څخه کوم څه فکر او تشويش، په ډېر امن او هوسايۍ (آرام) سره به يې ژوندون کولو، او خوراک لپاره غلې، دانې، مېوې او نور ور راوړلې کېدې، او هر څيز به يې په افراط وو، په کور ناست دوی ته هر قسم نعمت وررسېده، نو د هغه کلي اوسېدونکو د الله تعالی د هغو نعمتونو قدر ونه کړ، او په دنيوي خوندونو کې داسې مشغول او مصروف شول، چې په دغه غفلت او مستۍ کې حقيقي منعم هم د دوی له يااده ووت، بلکه د هغه په مقابل کې يې بغاوت وکړ، بالآخر الله تعالی د دغې ناشکرۍ او د نعمت د کُفران خوند پر دوی وځکاوه، چې د امن او هوسايۍ (آرام) په ځای خوف، وېره، او د روزۍ د ډېروالي او پرېمانۍ په ځای د لوږې او قحط په مصيبت کې يې داسې اخته کړل، لکه چې کالې (کپړې) د خپل اغوستونکي چپ چاپېر احاطه کوي، او يوه شېبه لوږه او وېره، قحط او خوف له دوی نه نه بېلېده.

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۱۳﴾

او خامخا په تحقيق راغلی وو دوی ته رسول له (جنسه د) دوی نو نسبت د دروغو يې وکړ هغه ته؛ نو ونيول دوی لره عذاب (د لوږې او وېرې) حال دا چې دوی ظالمان وو (په شرک او تکذيب سره).

تفسير: علاوه پر هغو ظاهري نعمتونو چې پاس مذکور شول؛ يو ډېر لوی او مهم باطني نعمت هم هغوی ته ورکړی شوی وو، يعنې د دوی له قومه او له نسبه يې يو داسې رسول ورلېږلی وو، چې د هغه اتباع په وسيله يې د الله د خوښې ډېر لوړ مقامات هم حاصلولی شو، مګر دوی د اتباع او تصديق په ځای د ده پر تکذيب او مخالفت ملا وترله، او همداسې پرله پسې په کندو او ژورو کې لوېدل، بالآخر د قديمي سنت الله سره سم ګرد ظالمان او ګناهګاران د الله تعالی په عذاب کې اخته او دوی يې سره ټول راګېر کړل، بيا نو د دوی د نجات لپاره د هيڅا هيڅ يو تدبير پرمختګ ونه کړی شو.

ځينې مفسرين وايي چې په دغه آيت کې د کوم معين کلي تذکره نه ده، محض د تمثيل په ډول د کوم تباه او ويجاړ شوي کلي لا علی التعيين حواله يې ورکړې ده، يا خو د داسې يو فرضي کلي وجود يې فرض کړی، او د مکې معظمې کفّارو ته تنبيه ورکړی شوې وه، چې که تاسې هم داسې وکړئ؛ نو تاسې سره به هم داسې معامله کېدی شي، نو د کُفران نعمت او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د تکذيب او عداوت له سزا څخه مه بې فکره کېږئ.

د ځينو علماوو په نزد په دغه مثال کې له کلي څخه مراد مکّه معظمه ده چې هلته هر قسم امنيت او طمأنيت وو، او سره له دې چې يوه غير زرع وادي وه؛ خو راز راز (قسم قسم) مېوې دانې غلې او نور د دې په لوري راښکودلی شوې: ﴿اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ حَرَمًا اٰمِنًا يُّجْبٰۤى اِلَيْهِ ثَمَرٰتُ كُلِّ شَیْءٍ﴾ (۲۰ جزء د القصص سورت (۵۷) آيت (۶) رکوع)، مګر مکيانو (مکې والا) د دغو نعماوو هيڅ قدر ونه پېژندو، په شرک او عصيان او بېحيايۍ او اوهام پرستۍ کې لګيا او منهمک شول، بيا الله تعالی له ګردو نعمتونو څخه لوی نعمت د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم په بعثت سره دوی ته ورولېږه، نو دوی د هغه په انکار او تکذيب کې هيڅ کمی ونه کړه: ﴿اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ كُفْرًا وَّاَحَلُّوْا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ﴾ (۱۳ جزء د ابراهيم د سورت (۲۸) آيت (۵) رکوع).

بالآخر الله تعالی د امن او اطمينان په ځای د مسلمانانو مجاهدينو وېره ددوی په زړونو کې واچوله، او د پراخې او پرېماني روزۍ په ځای اوه کاله قحط يې پر دوی مسلّط کړ، چې په هغه کې د سپيو او نورو مردارو تر غوښو پورې هم دوی وخوړل، بيا د «بدر» په غزا کې د اسلامي غازيانو له لاسه پر دوی د الله تعالی عذاب ورګډ شو.

فَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلَالًا طَيِّبًا ۖ وَاشْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿۱۱۴﴾

نو خورئ تاسې له هغو (طعامونو) چې درکړي دي تاسې ته الله حلال طيب پاکيزه او شکر وباسئ (قدر وپېژنئ) د نعمت (احسان) د الله که يئ تاسې چې خاص همده ته عبادت کوئ (او فرمان يې منئ).

تفسير: يعنې هر څوک چې د الله تعالى د عبادت مدّعي وي؛ ده لره دغه خبره ورو او لائقه ده، چې د الله تعالى د ورکړي نعمت او حلالې او طيبې روزۍ ځخه متمتع شي ! او د هغه احسان قدر وکړي ! او د الله شکر ګذاره بنده شي ! حلال دې حرام نه ګڼي، حرام دې حلال نه شمېري !، او د نعمتونو د منتفع کېدلو په وخت کې حقيقي منعم دې نه هېروي ! بلکه په هغه او د هغه پر لېږلي شوي رسولانو باندې دې ايمان راوړي ! او د دوی د احکامو او هداياتو په تعميل کې دې ډېر زيار وکاږي !.

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ ۖ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿۱۱۵﴾

بېشکه همدا خبره ده چې حرام کړی دی (الله) پر تاسې باندې (خوراک د) مردارې، او (بهېدونکې) وينې، او د غوښې د خنزير، او هغه (حلال کړی شوي حيوان چې اواز پورته شوی په هغې)، (د بل شي) بې له الله (د نامه) په (وخت د ذبح د) هغه يې، پس هغه څوک چې اړ (محتاج) شي (خوړلو د دې حرامو ته) حال دا چې ظالم نه وي (په بل چا) او نه تجاوز کوي (له قدره د کفافه)؛ نو بېشکه الله لوی مغفرت کوونکی ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: د دې آيت تفسير د «البقرة» او د «الأنعام» په سورتونو او نورو ځايونو کې پخوا ليکلی شوی دی، ځمونږ دې تفسير کې دې بيا ولوست شي، دلته دا غرض دی؛ لکه چې په پخواني آيت کې اشاره وه، چې حلال دې پر خپل ځان نه حراموي ! په دغه آيت کې تنبيه ورکړی شوې ده چې حرام شيان دې هم نه حلالوي ! خلاصه يې دا ده چې يو شی حلال يا حرام مقرروول د همغه لوی الله حق دی، چې د دغو ګردو شيانو خالق او مالک دی، لکه چې په راتلونکو آياتونو کې په وضاحت سره د دغه مضمون بيان شوی دی.

وَلَا تَقُولُوا لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هَٰذَا حَلَالٌ وَهَٰذَا حَرَامٌ لِتَفْتَرُوا عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴿۱۱۶﴾ مَتَاعٌ قَلِيلٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۱۱۷﴾

او مه وايئ تاسې له وجې د بيانولو د ژبو ستاسې دروغو لره (داسې) چې دا حلال دی او دا حرام دی لپاره د دې چې جوړ کړئ له ځانه پر الله دروغ، بېشکه هغه کسان چې ترې پر الله بهتان؛ نه به مومي خلاصی (له عذابه د آخرت)، (دوی لره) نفعه ده لږه، او شته دوی ته عذاب دردناک.

تفسير: يعنې بې له کوم شرعي مستنده د کوم شي په متعلّق خوله سپړدل او داسې ويل چې حلال دی يا حرام ډېر سخت جسارت او کذب او افتراء ده، حلال يا حرام خو همغه شيان کېدی شي چې هغه ته پاک الله حلال يا حرام فرمايلي وي، که کوم سړی محض پخپلې رايې سره کوم شی حلال يا حرام وټاکي (مقرر کړي)، او د هغه نسبت الله تعالى ته

وکړي، لکه چې د مکې معظمې مشرکانو کولو، او د هغه ذکر د «الأنعام»په سورت کې ځمونږ په دې مبارک تفسیر کې پخوا له دې نه تېر شو، نو هغوی في الحقیقت پر الله تعالی بهتان تړلی دی.

مونږ مسلمانانو ته هدایت راکړی شوی دی چې ښایي هیڅکله داسې رویه ځان ته اختیار نه کړو، او هر هغه شی چې الله تعالی حلال کړی وي؛ حلال یې وبولو، او هر هغه شی یې چې حرام کړی؛ حرام یې وګڼو، او بې له شرعي مأخذه پخپل سر د حل یا حرمت احکام ونه لګوو.

وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِن قَبْلُ ۚ وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١١٨﴾

او پر هغو کسانو چې یهودان شوي دي، حرام کړي دي مونږ هغه څیزونه چې بیان کړي وو مونږ پر تا باندې پخوا له دې نه، او نه وو ظلم کړی مونږ پر دوی (په دې تحریم سره) ولیکن وو دوی چې په ځانونو خپلو به یې ظلم کولو (په علمي عصیان سره).

تفسیر: د دغه بیان د «الأنعام» د سورت د (۸ جزء په (۱۴۶) آیت (۱۸) رکوع کې د ﴿وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ ۚ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَا﴾ الآیة ـ آیت په تفسیر کې تېر شوی دی، هلته دې بیا وکتل شي !، دلته دا مقصد دی: هر هغه شی چې الله تعالی ګردو ته یا کوم خاص قوم لپاره دائمًا تل ترتله، یا تر یوه معینه وخته پورې حرام کړی وي؛ هغه عین حکمت او صواب دی، هیڅ یو انسان د دغه حق نه لري، چې په هغه کې تصرّف وکړي، او حرام حلال یا حلال حرام وګرځوي.

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُوا السُّوءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا إِنَّ رَبَّكَ مِن بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٩﴾

بیا بېشکه رب ستا (چې دی ای محمده !) هغو کسانو ته چې یې کړي دي بدي (ګناه) په جهالت (ناپوهی) سره بیا توبه وباسي وروسته له کولو د هغه (بد عمل)، او نېک کړي عمل خپل؛ بېشکه رب ستا وروسته له دغې توبې څخه خامخا بخښنه کوونکی دی، ډېر رحم کوونکی دی.

تفسیر: مثلاً حرام یې حلال یا حلال یې حرام وګڼل، په «نادانی سره» یې ځکه وفرمایل؛ هر څوک چې د الله تعالی له احکامو څخه غاړه غړوي، اګر که یې عملاً او په قصد سره هم وکړي؛ هغه په حقیقت کې د هغه نادانی او بې عقلي ده، چې له خپله ځانه په لوی لاس جاهل جوړوي، او کوي یې، که عاصي لږ څه له عقله کار واخلي، او دګناه بدو نتایجو ته وګوري، او تصوّر یې وکړي؛ نو له سره به د معصیت په لوري اقدام ونه کړي، د جزء (۴) «النساء» د سورت په (۳) رکوع کې (۱۷) آیت کې هغه تعلیقات چې پر ﴿إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللَّهِ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السُّوءَ بِجَهَالَةٍ﴾ باندې لیکلی شوي دي؛ ښایي چې هغه دې بیا یو ځلې دلته هم ولوستل شي !.

﴿ثُمَّ تَابُوا﴾ الآیة ـ یعنې له کفریّاتو څخه له توبې ایستلو او په اخلاص سره په مسلمانېدو او په مستقبل کې د خپل اعمال او افعال په درست کولو سره الله تعالی د توبې کوونکو ګرد تېر ګناهونه بخښي، اګر که ډېرې سختې او غټې ګناوې هم وي.

إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٠﴾

بېشکه چې ابراهیم وو (اصلي او اساسي) پېشوا فرمان منونکی خاص الله لره حنیف (کلک په حق دین باندې)، او نه وو دی له مشرکانو (لکه چې قریش وایي).

تفسير: دلته الله تعالى جلّ وعلا د عربو د مشرکينو د شرکيّاتو په تردید کې د إمام الموحّدين أبو الأنبياء ابراهيم خليل الله «عليه و على ذُرّيّته ونبيّنا الصلاة والسلام» طور او طريقه را په يادوي، ځکه چې د عربو خلق د ده له ذُريې او ځوځات (نسل) څخه وو، او خپل ځانونه يې پر ابراهيمي دين باندې سم او برابر ګڼل، حال دا چې دوی د ابراهيمي دين سره له لرې هم څه علاقه او نسبت نه درلوده، نو دوی ته دا ورښيي چې ابراهيم عليه السلام د موحّدينو امام، د ګردو نېکيو معلم، د ټولې دنيا په مقابل کې يواځې پخپل سر د يوه عظيمه امّت په برابر ولاړ وو، او د دوی په مبارک ذات کې پاک الله هغه ګرد محاسن او کمالات ورجمع کړي وو، چې په يو لوی مجمع کې په متفرّق ډول سره موندلی کيږي.

ليس على الله بمستنكر ـ أن يجمع العالم في واحد.

عجب نه دی له الله نه چې قادر دی په هر څيز

چې دی ټول پخپل قدرت کړي ګرد عالَم په يوه سړي کې.

ابراهيم عليه السلام د الله تعالى داسې کامل او مطيع او فرمان منونکی بنده وو، چې له ګردو سره يې اړيکې شکولې، او يواځې له الله تعالى سره يې ښلولې، او ډېر خاص مخلص مسلمان وو، ممکن نه وو چې ده کوم څيز بې د الله تعالى له حکمه محض له خپل لوري حلال يا حرام درولي وی، نو دی پخپله (معاذ الله) څرنګه د شرک ارتکاب کولی شي، ده د مشرکينو په کلي او جماعت کې وسېدل هم نه خوښول.

نو اوس هغه کسانو ته چې دوی خپل ځانونه «حنيف» بولي، او داسې ادعا کوي چې: مونږ پر ابراهيمي دين يو؛ شرم او ننګ پکار دی، چې څرنګه پر الله تعالى بُهتان تړي؟ آيا د حلالو حرام ګڼل، يا د حرامو حلال درول او د شرک په حمايت کې له انبياوو سره جنګېدل د يو «حنيف» او ابراهيمي سړي له شان سره مناسبت لري؟.

په ياد يې ولرئ چې د حلالو او حرامو په بيان کې او د دين په اصولو کې ـ اصل خو هغه ابراهيمي ملت دی چې د همغه ملّت د اقامت او اشاعت اوسط او تفصيل لپاره محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم تشريف راوړی دی، که غواړئ چې پر اصلي دين د ابراهيم عليه السلام تګ وکړئ؛ نو محمدي طريقه ځان ته غوره کړئ (على صاحبها أفضل الصلاة وأتم التسليم).

شَاكِرًا لِّأَنْعُمِهِ ۚ اجْتَبَاهُ وَهَدَاهُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٢١﴾

(وو ابراهيم قدردان) شکر کوونکی د نعمتونو (احسانونو) د الله، غوره کړی وو (الله) دغه (ابراهيم لره په نبوّت سره)، او برابر کړی وو (الله) دغه (ابراهيم) سمې لارې ته.

تفسير: يعنې ابراهيم عليه السلام د الله تعالى شکر ګزاره بنده وو، تاسې سخت ناشکره او د نعمت کفران کوونکي يئ، لکه چې د ﴿وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً﴾ الآيات ـ په تفسير کې کښلي شوي دي، نو تاسې څرنګه د ابراهيم عليه السلام په دين او ملّت او لاره کې يئ؟ چې حق پر بېردئ او باطل خوښوئ له توحيده مخ اړوئ، او شرک او کفر پسې ځغلئ، حال دا چې ابراهيم عليه السلام د کامل توحيد او تسليم او رضاء پر سمه لاره روان وو، او الله تعالى ده ته ډېره سمه صافه لاره ورښوولې وه، او دی يې پرې روان کړی وو.

وَآتَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿١٢٢﴾

او ورکړی وه مونږ دغه ته (يعنې ابراهيم ته) په دغه دنيا کې ښه حالت، او بېشکه دغه (ابراهيم) په آخرت کې هم خامخا له صالحانو (د لويو درجاتو د خاوندانو) څخه دی.

تفسير: حسنه يعني نبوّت، پراخه روزي، اولاد، وجاهت، (يا جميل ذكر يا نېک اولاد يا نبوّت د محمد صلى الله عليه وسلم يا) عمومي مقبوليت چې ګرد اديان بالاتفاق د ده تعظيم كوي، او هره فرقه همدا غواړي چې خپله سلسله ابراهيم عليه السلام سره ولګوي.

ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٣﴾

بيا وحي (حكم) وكړ مونږ تا ته (اى محمده !) چې متابعت وكړه (په توحيد كې) د دين د ابراهيم چې حنيف (كلك په حق دين) وو، او نه وو دى له مشركانو.

تفسير: د دې بيان د «الأنعام» په سورت كې د ﴿دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾ آيت لاندې ځمونږ دې تفسير كې تېر شو، هلته دې بيا ولوست شي !، مقصد دا دى چې په حل او حرمت كې او ديني خبرو كې ابراهيمي ملت او دين اصل دى، په منځ كې يهودو او نصاراوو ته د هغوى د حالاتو په مناسبت مخصوص احكام وركړى شوي دي، بالآخر محمد صلى الله عليه وسلم يې مبعوث كړ، څو هغه اصلي ابراهيمي دين بيا له سره ژوندى او روښانه كړي، چې له غفلته او تحريفه او بېځايه تصرّفاتو څخه بيخي ضايع شوى وو، او د شرک ګرد رګونه پرې كړي.

په حديث كې راغلي دي: «بعثت بالحنيفيّة السّمحة» د دې داسې پوره شرح او تفصيل شاه ولي الله (رحمه الله تعالى) په «حجّة الله البالغة» كې فرمايلى دى، چې د لوستلو وړ دى.

إِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ عَلَى الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ ۚ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٢٤﴾

بېشكه همدا خبره ده چې مقرر كړى شوى دى (تعظيم د ورځې د) خالي پر هغو كسانو چې اختلاف يې كړى وو په كې، او بېشكه چې رب ستا خامخا حكم به وكړي په منځ د دوى كې په ورځ د قيامت كې په هغه څيز كې چې وو دوى چې په هغه كې به يې اختلاف كولو (چې هغه ورځ ده د عبادت).

تفسير: يعنې په اصلي ابراهيمي ملّت كې دخالي (شنبې) د ورځې حكم نه وو، چې پر مونږ محمدي امّت باندې هم نه دى، هو ! په منځ كې يهودانو د خپل نبي موسى عليه السلام له ارشاده سره اختلاف وكړ، نو كله چې دوى دغه د خالي ورځ ځانته غوره كړه؛ نو حكم وشو چې په ښه شان سره يې تعظيم وكړئ !او په دغه ورځ كې دې د ماهيانو ښكار ونه كړ شي ! ځينو يهودانو دغه حكم قبول كړ، او ځينو هغه ونه منلو، چې هغه نامنونكي په دنيا كې بيزوګان او خنزيران شول، او د دوى په نسبت كومه فيصله چې په آخرت كې كيږي؛ هغه بېله ده، په همدغه څه انحصار نشته، هلته به نور ګرد اختلافات او جګړې هم سره فيصله كيږي.

ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿١٢٥﴾

بلنه كوه (اى محمده ! خلقو ته) لارې د رب خپل ته (چې توحيد او اسلام دى) په حكمت سره او په موعظه (پند) نېک سره په ښه ډول، او مباحثه كوه له دوى سره په هغې (طريقې سره) چې هغه ډېره ښه وي !، بېشكه چې رب ستا ښه عالم دى په هغه چا چې ګمراه شوى دى له لارې د الله څخه، او دى ښه عالم دى په لاره موندونكو (دين ته او پر تا تش تبليغ دى).

تفسير: په پاس آيتونو کې يې مخاطبينو ته دا ورښکاره کړه، چې دغه رسول الله د اصلي ابراهيمي ملّت او دين سره راغلی دی، که تاسې د بري او کاميابۍ غوښتونکي يئ، او د «حنيفيت» په دعوی کې رښتين يئ؛ نو پر دغه سمې، صافې لارې لاړ شئ ! په ﴿اُدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ﴾ الآية ـ کې تر آخره پورې پخپله محمد صلى الله عليه وسلم ته تعليم ورکول کيږي، چې ښايي خلق په څه ډول په سمې لارې باندې راولي؟ او د هغه درې طريقې يې راښودلي دي: (۱): حکمت، (۲) حسنه موعظه، (۳): جدال بالتي هي أحسن.

(۱): له «حکمت» څخه مراد دا دی، چې د نهايتې پخې خبرې، محکمې اترې، جازمه مضامين، قاطعه براهين، مضبوط دلائل، او معقول عوامل په قوّت او رښا کې هغوی ته لار ښوونه وشي، چې د هغو په اورښدلو او ليدلو او پوهېدلو سره فهم او ادراک او علمي ذوق لرونکې طبقه غاړه کښودی شي، او د دنيا خيالي فلسفې د ده په مقابل کې پرې او مړې ولويږي، او هيڅ قسم علمي او دماغي ترقيات د الله تعالى د وحي له بيان کړيو حقائقو يو بځر کې هم تبديل ونه کړی شي.

(۲): «حسنه موعظه» له هسې موقرو معتبرو او مؤثرو او رقّت پيدا کوونکو پندونو څخه عبارت دی؛ چې د نرم خويۍ او زړه سوی له روحه ډک وي، له اخلاص، همدردی، شفقت او ښو اخلاقو سره په ښه صورت او معتدل اسلوب سره وي.

(۳): «جدال بالتي هي أحسن»، يعنې که کومه موقع د مباحثې درورانديږي شي؛ نو په ډېره ښه طريقه، تهذيب غوره والي، حق پېژندلو، عدل او انصاف سره مباحثه وکړئ !، او پر خپل مقابل حريف الزام وارونئ، او په ښه اسلوب او پيرايه سره يې سمې لارې ته دراوړئ، او ښايي چې خامخا زړه خوږوونکې او ربړوونکې خبرې ونه کړئ !، چې په هغه سره قضيه اوږدېږي، او معامله طول ته رسيږي، ښايي چې بالذات دې مقصود تفهيم او د حق احقاق وي، ځکه چې له ځيروالي، خشونت، بد اخلاقی، خبرو غټولو، ضد، او عناد څخه هيڅ يوه ښه نتيجه په لاس نه ورځي.

﴿إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ﴾ الآية ـ يعنې د دعوت او تبليغ په لاره کې تا ته ښايي چې د الله تعالى په ورښولې لارې باندې لاړ شئ، او تا ته نه ښايي چې په دغه فکر او چرت (خيال) کې ولويږې، چې څوک يې مني؟ او څوک يې نه مني؟ نتيجه پاک الله ته وسپاره ! همغه د ده په لاره تلونکو او نه تلونکو وکړو له حالاتو څخه خبردار دی، او له هر چا سره به له هغه سره مناسبه معامله کوي.

وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ ۖ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّابِرِينَ ﴿۱۲۶﴾

او که عذابوئ تاسې (څوک)؛ نو عذاب ورکوئ په شان د هغه عذاب سره چې عذاب کړی شوي يئ تاسې په هغه سره، او خامخا قسم دی که صبر وکړ تاسې؛ نو خامخا دغه (صبر) خير (غوره) دی (له انتقامه) صابرانو ته.

تفسير: يعنې د تبليغ او دعوت په لاره کې که تاته ډېره سختي او تکاليف در ورسولي شو؛ نو د قُدرت او قوّت حاصلولو په وخت کې ته اجازه لرې، چې سم برابر له هغوی سره معامله وکړې، او په مساوي ډول تري بدل واخلې، ليکن د صبر مقام له دې نه لوړ او اعلی دی، که صبر وکړې نو د هغه نتيجه ستا په حق او د ليدونکې او هم د همغو متجاوزينو او تيري کوونکو په حق کې ښه او بهتره ده.

وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللَّهِ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِي ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴿١٢٧﴾

او صبر کوه ! او نه دی صبر ستا مګر په (توفیق) د الله سره، او مه خپه کېږه پر دغو کفّارو (چې ولې نه مسلمانېږي)، او مه کېږه په زړه تنګی کې له هغو مکرونو څخه چې دوی مکرونه کوي (له تا سره).

تفسیر: یعنې پر مظالمو او شدائدو صبر کول آسان کار نه دی، که الله تعالی چاته توفیق ور په برخه کړي؛ نو صبر او تحمّل یې هم په برخه کیږي، او کولی شي چې ربړ (تکلیف) او ظلم وګالي (برداشت کړي)، او آه ونه کاږي !.

إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ ﴿١٢٨﴾

بېشکه الله ملګری دی (په عون او نصرت سره) له هغو کسانو سره چې پرهېزګاري کوي (له کفر او معاصیو او ویریږي له الله)، او له هغو کسانو سره چې دوی نیکي کوونکي دي.

تفسیر: یعنې انسان هومره چې له الله تعالی څخه وویریږي، او تقوی او پرهېزګاري او نیکي اختیار کړي؛ هغومره د الله تعالی امداد او اعانت ورسره وي، نو داسې متقیانو ته د کفّارو له مکرونو او فریبونو څخه زړه تنګي کېدل یا غمجنوالی نه دی پکار، ځکه چې الله تعالی دغه عاجزان او ضعیفان هم له متقیانو او محسنانو سره پخپل فضل او کرم او مرحمت محشور فرمایي.

تمّت سورة النحل بعونه وتوفیقه، ولله الحمد.

سُورَةُ بَنِيٓ إِسۡرَآءِيلَ

«د (بني اسرائيل» سورت مکّي دی، پر ته له (۲۶، ۳۲، ۳۳، ۵۷، او له ۷۳ آيتونو څخه تر ۸۰ آيته پورې چې مدني دي، (۱۱۱) آيتونه، (۱۲) رکوع لري، وروسته د (القصص) له سورت څخه نازل شوی دی، په تلاوت کې (۱۷) او په نزول کې (۵۰) سورت دی».

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ①

پاکي ده هغه ذات لره چې بيولی يې وو بنده خپل (محمد) په (يوه برخه د) شپې کې له (منځه يا له څنګه د) مسجد حرام څخه تر مسجد اقصی پورې هغه چې برکت اچولی دی مونږ چار چاپېر د هغه، (بيول د محمد د دې لپاره وو) چې (هلته) وښيو مونږ ده ته ځينې له دلائلو د توحيد خپل، بېشکه چې دغه (الله) هم دی دی ښه اورېدونکی (د ګردو اقوالو) ښه ليدونکی.

تفسير: يعنې الله تعالی له هر نوعه نقص او له هر قسمه قصور او له هر راز ضعف او عجز څخه پاک دی، هره هغه خبره چې ځمونږ په خيال کې بې انتهاء عجيبه معلوميږي، او ځمونږ ناقص عقول هغه پېچيدګي مستبعده ګڼي، د الله تعالی د قُدرت او مشيت مقابله کې هغه هيڅ مشکل نه دی.

﴿أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا﴾ الآية - يعنې يواځې د شپې په يوې محدودې برخې کې خپل ډېر مخصوص او خورا (ډېر) مقرب بنده محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم يې د مکې معظمې له حرمه تر بيت المقدس پورې بوتلو.

د دغه سفر غرض څه وو؟ د هغه په لوري وروسته له دې نه په ﴿لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآ﴾ کې اشاره فرمايلې ده: حاصل يې دا دی چې پخپله همدغه سفر کې له بيت المقدس څخه وړاندې بل چېرې يې بوتلو، او د خپل د قدرت عظيم الشأن نشان او ډک له حکمته د انتظاماتو عجيبې او غريبې نمونې ورښوول يې منظور وو، د «النجم» په سورت کې د دغو آيتونو څخه ذکر شوی دی، چې له هغو څخه ظاهريږي، چې ځمونږ د رسول الله صلی الله عليه وعلی آله وصحبه وسلّم تر «سدرة المنتهی» پورې تشريف وړی وو، او نهايت عظيم الشأن آيات يې مشاهده فرمايلي وو: ﴿وَلَقَدۡ رَءَاهُ نَزۡلَةً أُخۡرَىٰ * عِندَ سِدۡرَةِ ٱلۡمُنتَهَىٰ * عِندَهَا جَنَّةُ ٱلۡمَأۡوَىٰ * إِذۡ يَغۡشَى ٱلسِّدۡرَةَ مَا يَغۡشَىٰ * مَا زَاغَ ٱلۡبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ * لَقَدۡ رَأَىٰ مِنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِ ٱلۡكُبۡرَىٰ﴾ (۲۷ جزء د النجم سورت (۱۳ ـ ۱۸) آيت پورې، (۱) رکوع).

د علماوو په اصطلاح: له مکې څخه تر بيت المقدس پورې سفر ته (إسراء) او له هغه ځايه تر «سدرة المنتهی» پورې سياحت ته «معراج» وايي، او ډېر ځلي د دغو دواړو سفرونو مجموعه په همدغه يوه لفظ د (إسراء) يا (معراج) سره تعبير کيږي.

د أسلافو او أخلافو د جمهورو عقيده دا ده چې: ځمونږ پاک رسول الله محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم په ويښه (بجسده الشريف) (معراج) ته بيولی شوی دی.

باقي د «رؤيا» لفظ چې په قرآن کريم کې په ﴿وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِي أَرَيْنَاكَ﴾ آيت کې راغلی دی؛ د هغه په متعلّق ابن عبّاس رضي الله تعالى عنهما فرمايلي دي: «رؤيا عين أريها الرسول صلى الله عليه وسلم»، مفسّرينو د عربو له کلامونو څخه د دې شواهد وړاندې کړي دي، چې د «رؤيا» د لفظ اطلاق کله ناکله د مطلق «رؤيت: ليدل» په معنى استعماليږي، لهذا که له هغه څخه مراد همدغه د «اسراء» واقعه وي؛ نو د مطلق نظاره په معنى اخيسته کيږي، چې په ظاهري سترګو سره شوی دی، څو د نصوصو له ظواهرو او د جمهور الأمت له عقيدې څخه مخالفت ونشي، هو ! د (شريک) نامي راوي په روايت کې ځينې داسې الفاظ راغلي دي، چې د هغو له مخې د «اسراء» وقوع د نَوْم «خوب» په حالت کې معلوميږي، مګر محدثين پر دغه خبره ګرد سره متفق دي، چې د (شريک) حافظه خرابه ده، نو ځکه د ډېرو لويو لويو حفّاظو د احاديثو په مقابل کې د هغه روايت د استناد قابل نشي کېدی.

حافظ ابن حجر «رحمه الله» د (فتح الباري) په اواخرو کې د (شريک) د حديث اغلاط شميرلي دي، او دا يې ښوولې ده چې د ده د روايت مطلب دی داسې واخيستل شي، چې څو د عمومي احاديثو څخه مخالف نشي، مونږ دا قسم تفاصيل دلته نشو درجولی.

د (صحيح مسلم) په شرح کې دغه مباحث په پوره شرح او بسط سره درج کړی شوي دي، دلته تش دومره ښوولی کيږي، چې راجح مذهب همدا دی، چې د (معراج) او د (اسراء) واقعه دوينټوب په حالت کې (بجسده الشريف) واقع شوېده، هو ! که پخوا له دې نه يا وروسته همداسې واقعات په خوب کې همدوی ته ورښوولي شوي وي؛ نو له هغه څخه انکار نه دی پکار.

﴿الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا﴾ يعنې په هغه ملک کې چې «مسجد اقصى» او بيت المقدس واقع دی؛ الله تعالى ډېر ظاهري او باطني برکات ايښي دي، له مادي حيثيته د چينو، نهرونو، غلو، دانو، مېوو، او نورو افراطه، او که د روحاني په اعتبار وکوتل شي؛ نو هغه د ډېرو انبياوو او رسولانو د بعثت ځای وو، ښايي د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د بيولو څخه هغه ځای ته دغه اشاره هم وي، چې هغه ګرد کمالات چې بني اسرائيلو په انبياوو او نورو تقسيم شوي وو؛ د ده په مقدّس ذات کې سره ټول شوي دي، پر هغه ټولو نعمتونو چې پر بني اسرائيلو مبذول شوي وو؛ بني اسماعيل قبضه کوونکي دي، د کعبې شريفې او د بيت المقدس د دواړو د انوارو او د برکاتو حامل همدغه يو محمدي امت کېدونکی دی، په احاديثو کې راغلي دي، چې رسول الله مبارک په بيت المقدس کې د ګردو انبياوو امامت وفرمايه، ګواکې د انبياوو هغه د سيادت او امامت منصب چې محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورکړی شوی وو؛ د هغه يوه حسّي نمونه دوی ته او نورو مقرّبينو ته دلته وروښودل شوه.

﴿وَآتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَجَعَلْنَاهُ هُدًى لِبَنِي إِسْرَائِيلَ أَلَّا تَتَّخِذُوا مِنْ دُونِي وَكِيلًا﴾

او ورکړی وو مونږ موسى ته کتاب (تورات)، او ګرځولی وو مونږ هغه (کتاب) هدايت لپاره د بني اسرائيلو چې مه نيسئ تاسې غير له ما څخه هيڅ وکيل (دوست متولّي جوړوونکی دکارونو خپلو).

تفسير: د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د فضل او شرف د بيان فرمايلو څخه وروسته د موسى عليه السلام د ذکر په طرف يې کلام منتقل کړ، کله چې د «اسراء» په ذيل کې تر «مسجد الأقصى» او «بيت المقدس» پورې د تللو ذکر وو، وروسته له هغه پر «مسجد اقصى» او د هغه پر قديمي متوليانو بني اسرائيلو کومې مختلفې دورې چې تېرې شوې وې؛ هغه د مسلمانانو د عبرت او پخپله د بني اسرائيلو د نصيحت لپاره بيانولی شي، او دا آيت د هغه تمهيد دی.

د اسراء، په واقعه کې اشاره ده چې د حجازي نبي امّت یواځې د همدې امانت مالک ګرځېدونکی دی، چې د (شام) په ځمکو کې په ودیعت ایښی شوی وو، په دغو آیاتونو کې بني اسرائیلو ته تنبیه ورکاوه شي، چې که دوی د خپل خیریت غوښتونکي وي؛ نو اوس دې د همدې عربي رسول الله صلی الله علیه وسلم متابعت وکړي، نو الله تعالی به هم د دوی پر حال لطف او مهرباني وفرمایي، که نه د پخوا په شان به بیا دوی ته د دوی د شرارتونو سزا ورکړل کیږي، او د «مسجد اقصی» له تولیته به هم محروموه شي.

﴿اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِیْ وَكِیْلًا﴾ یعنې په تورات کې داسې هدایت ورکړی شوی وو، چې پر خالص توحید قائم اوسېږئ ! او د الله تعالی څخه ماسوا بل هیڅوک خپل وکیل او کار جوړوونکی مه ګڼئ ! او تل پر همغه الله باندې توکل او اعتماد وکړئ !.

ذُرِّیَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَبْدًا شَكُوْرًا ۝۳

ای اولاده د هغه چا چې سور (او بار) کړی وو مونږ سره له نوحه (په بېړۍ کې)، بېشکه چې نوح وو بنده ډېر شکر ایستونکی (په هر حال کې، نو ښایي چې تاسې هم شاکر اوسئ !).

تفسیر: یعنې تاسې د هغو کسانو اولاده یئ، چې له نوح علیه السلام سره پر بېړۍ سپاره (سواره) شوي وو، او د الله تعالی له عذابه یې نجات موندلی وو، هغه احسان چې مونږ ستاسې پر لویانو کړی دی مه یې هېروئ، وګورئ نوح علیه السلام چې تاسې د هغه له اولادې څخه یئ؛ څرنګه احسان پېژندونکی او شکر ایستونکی بنده وو، نو تاسې لره هم ښایي چې د هغه متابعت وکړئ !.

وَقَضَیْنَاۤ اِلٰی بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ فِی الْكِتٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِی الْاَرْضِ مَرَّتَیْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِیْرًا ۝۴

او قطعي حکم لېږلی وو مونږ بني اسرائیلو ته په کتاب (تورات کې داسې چې) خامخا به فساد وکړئ تاسې هرومرو په ځمکه (د شام) کې دوه ځلې او خامخا سرکښي به وکړئ تاسې هرومرو په سرکښي ډېره لویه سره.

تفسیر: په تورات یا په بل اسماني کتاب کې دغه پخوا ویل شوي وو؛ چې دغه قوم بني اسرائیل دوه ځلې به په مملکت کې سخته خرابي وکړي، او د ظلم او تکبّر طریقه به غوره کوي، او د سختیو سرکښیو او تمردو مظاهره به کوي، لکه چې هم داسې هم وشو، او هر ځلې د الله تعالی له جانبه د دردناکو سزاوو خوند ورڅکاوه کېده، چې د هغه ذکر داسې فرمایي:

فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ اُوْلٰىهُمَا بَعَثْنَا عَلَیْكُمْ عِبَادًا لَّنَاۤ اُولِیْ بَاْسٍ شَدِیْدٍ فَجَاسُوْا خِلٰلَ الدِّیَارِ ؕ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُوْلًا ۝۵

نو کله چې راغله وعده د اول انتقام (د هغو دواړو فسادونو څخه)؛ نو مسلط کړل مونږ پر تاسې بندګان ځمونږ (هغه چې ستاسې د سزا لپاره مو مسلّط کړي وو) چې خاوندان د جنګ سخت وو، نو ګرد ګرځېدل دوی (د وژلو او تالا کولو لپاره) په منځ د ښارونو (ستاسې)، او وو (دا کار یوه) وعده پوره کېدونکې.

تفسیر: یعنې په کلیو او ښارونو کې د کورونو په منځ کې ننوتل، او ډېر خلق یې ووژل، او وینې یې وبهولې، او ګرد یې سره لوټ او تالا کړل، په دغه شانې هغه وعده چې الله تعالی د دوی د سزا ورکولو په نسبت ورکړې وه؛ پوره شوه.

ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَأَمْدَدْنَاكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَجَعَلْنَاكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا ۝٦ إِنْ أَحْسَنْتُمْ أَحْسَنْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ لِيَسُوءُوا وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا مَا عَلَوْا تَتْبِيرًا ۝٧

بیا بېرته درکړه مونږ تاسې ته غلبه (دولت چې غالب شئ) پر دوی، او مرسته (مدد) مو وکړه له تاسې سره په مالونو سره، او په ځامنو سره، او وګرځولی مونږ تاسې زیات له جهته د ملاتړه. که نیکي وکړئ تاسې نو نیکي به کوئ تاسې لپاره د ځانونو خپلو، او که بدي کوئ تاسې نو (زیان یې) پر نفسونو ستاسی دی، نو کله چې راغله وعده د وروستي (انتقام، فساد، نو بیا مې خپل بندګان مسلّط کړ پر تاسې) لپاره د دې چې دوی بد کړي مخونه ستاسی (یعنې د غم آثار په کې ښکاره کړي)، او لپاره د دې چې ننوځي مسجد د بیت المقدس ته لکه چې ننوتلي وو په هغه کې اول ځلي، او لپاره د دې چې هلاک (خراب) کړي هر هغه (ځای او شی) چې دوی غالب شوي وو په ډېر سخت خرابولو او هلاکولو سره.

تفسیر: یعنې کله چې تاسې ځما په طرف رجوع وکړه، او د توبې او انابت طریقه مو غوره کړه؛ مونږ بیا تاسې ته پر دښمنانو بری او کامیابي درکړه، له نېکۍ او بدۍ څخه هر څه نفع او نقصان چې رسیږي؛ همدا تاسو ته دررسیږي.

د وروستي فساد لامله یو ځل بیا په تاسې ځمونږ بندګان مسلّط شول، چې په ډېرو وژلو او وهلو سره یې ستاسې رنګونه خړ او مخونه خراب کړل، او په مسجد اقصی بیت المقدس کې ننوتل، او د پخوا په شان لوی شورماشور او بلوه یې ونښلوله، صورتونه، هیاکل او نور شیان یې خراب او تباه کړل، او په دې شان د بني اسرائیلو قوت د تل لپاره خاتمه ومونده.

عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَنْ يَرْحَمَكُمْ وَإِنْ عُدْتُمْ عُدْنَا وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ حَصِيرًا ۝٨

نژدې دی رب ستاسې چې رحم وکړي پر تاسې (که توبه مو وکړه)، او که بېرته وګرځېدی تاسې (فساد ته)؛ نو مونږ به هم راوګرځو (عقوبت ستاسې ته)، او وګرځولی دی مونږ دوزخ لپاره د کافرانو بندي خانه.

تفسیر: شاه صاحب لیکي: «په تورات کې ویلي شوي وو، چې بني اسرائیل به دوه ځلي شرارت وکړي، د هغه په جزاء به دښمنان د دوی پر ملک غالبیږي، همداسې وشوه، یو ځلي «جالوت» غالب شو، بیا الله تعالی هغه د داود علیه السلام په لاس هلاک کړ، بیا بني اسرائیلو ته د سُلیمان علیه السلام په سلطنت لا زیات قوت ورکړی شو، دویم ځلي د پارسیانو څخه بخت نصر غالب شو، وروسته له دې نه د یهودانو سلطنت بیا قوّت ونه موند، اوس فرمایي چې: الله تعالی په مهربانی راغلی دی، که تاسې د محمد صلی الله علیه وسلم تابع شئ؛ نو هم هغه سلطنت او غلبه به بیا در په برخه شي، او که تاسې بیا شرارت وکړئ؛ نو مونږ به بیا درسره همغسې وکړو، یعنې محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانان به پر تاسې غالبان کړو، او په آخرت کې د دوزخ اور تیار دی.

ځینې علماء له ړومبنی وعدې څخه د بخت نصر حمله اخیستې ده، چې (۱۲۰۸) کاله پخوا له هجرته وه، او له دویمې وعدې څخه «طیطوس رومي» مرادوي، چې (۵۵۱) کاله پخوا تر هجرته واقع شوې ده، ځکه چې په دغو دواړو حملو کې یهودان په پوره ډول سره تباه او برباد شول، او «مقدس هیکل» یې له لاسه وویست، والله أعلم.

إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا ﴿٩﴾

بېشکه دغه قرآن هدايت کوي (ښيي نېکانو ته) هغه (لاره) چې هغه ډېره برابره، سمه، صافه او ښه ده، او زېرى ورکوي مؤمنينو ته، هغه (مؤمنان) چې کوي دوى ښه (عملونه) د دې خبرى چې شته دوى ته اجر ډېر لوى.

تفسير: هسې خو «تورات» هم بني اسرائيلو ته لار ښوونکى وو، لکه چې پخوا يې فرمايلي دي: ﴿هُدًى لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ﴾ ليکن دغه قرآن عظيم الشأن ګردې دنيا ته له ګردو څخه زيات او ښه سمه، صافه او مضبوطه لار ښيي، او نور ګردې قويمي لارې د همدغه ﴿أَقْوَمُ﴾ لاندې مندرجې شوي دي، لهذا که نجات او برى ستاسې پکار وي؛ نو د خاتم الأنبياء محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم متابعت وکړئ! او پر دغه محمدي سمه صفا سړک باندې درومئ! او هغه کسان چې په قلب او جوارح يعنې په ايمان او صالح عمل سره پر دغه سمه صافه لاره تګ کوي؛ نو قرآنکريم به په دنيا کې هغه ته طيبه حيات، او په آخرت کې د جنت عظيم الشأن بشارات اوروي، باقي هغه کسان چې له هغوى سره بيخي د آخرت څه فکر او خيال نشته، او د غفلت او غرور په نشو کې په دنيوي لذاتو او شهواتو کې ډوب تللي دي؛ او اصلا د آخرت په فکر او سودا کې نه دي؛ د هغوى د بد انجام او خراب عاقبت ذکر داسې فرمايي:

وَأَنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٠﴾ وَيَدْعُ الْإِنسَانُ بِالشَّرِّ دُعَاءَهُ بِالْخَيْرِ وَكَانَ الْإِنسَانُ عَجُولًا ﴿١١﴾

او بېشکه هغه کسان چې ايمان نه راوړي په آخرت باندې؛ تيار کړى دى مونږ دوى ته عذاب دردناک. او دعاء کوي (غواړي) انسان شر (پر خپل ځان او په اولاد) (د زړه تنګۍ په وخت کې) په (مثل د) غوښتلو د ده دخير، او دى انسان تلوار کوونکى (په غوښتلو د خير او د شر د دواړو).

تفسير: يعنې قرآنکريم خلق د ډېرو ښو ښېګڼو (فائدو) په طرف بولي، د اجر کبير بشارات اوروي، او د بدې د مهلکو نتائجو څخه انسانان خبروي، ليکن د نادان انسان حال دا دى چې هغه سره د دغو ګردو خبرو د اورېدلو بيا هم د خپل ځان لپاره خرابي او بدي په همغه اشتياق او الحاح سره غواړي؛ لکه چې کومه نيکي خپل ځان لپاره غواړي، دوى له انجام څخه خپلې سترګې پټوي، او په ډېرې تېزۍ او تلوار سره د بديو او ګناهونو په طرف ورځغلي، او منډې ورپسې وهي، بلکه ځينې بدبختان په صافو الفاظو سره پخپلو ژبو سره داسې وايي: ﴿وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ﴾

«اى الله! که دغه نبي پخپلې دعوى کې صادق او رښتين وي؛ نو پر مونږ باندې له اسمانه کانې راووروه! يا بل کوم سخت عذاب راباندې نازل کړه!»، ځينې بېوقوفان له ډېره قهره او غضبه رېږدي (رپېږي)، او شين او سور ګرځي، او په دغه حالت کې خپل ځان يا خپل اولاد يا نورو ته بې له پوهېدلو او سنجولو (غور کولو) ښېرا کوي.

وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ آيَتَيْنِ فَمَحَوْنَا آيَةَ اللَّيْلِ وَجَعَلْنَا آيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً لِّتَبْتَغُوا فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ ۚ وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنَاهُ تَفْصِيلًا ﴿١٢﴾

او ګرځولې ده مونږ شپه او ورځ دوه دليله (د توحيد)، نو محوه کړه مونږ علامه د شپې، او ګرځوله مونږ علامه د ورځې روښانه (چې هر شى په کې ليدل کيږي)، لپاره د دې چې طلب کړئ تاسې (په رنړا د ورځې کې) فضل له رب خپل، او چې معلوم کړئ وپوهېږئ تاسې (په دغه

اختلاف د دې شپو او ورځو کې) شمار د کلونو او حساب (د اوقاتو)، او هر څيز (چې تاسې ورته اړ «مجبور» يئ) بيان کړی دی مونږ هغه په بيانولو واضحو سره.

تفسير: د شپې تياره، د ورځې رڼا، د دغو دواړو څخه کله د يوه لويېدل او کله د بل، بيا د شپې له مخې د مياشتې ورو ورو لويېدل، او د سپوږمۍ ورو ورو وړېدل، د سپوږمۍ تتې يخې وړانګې او د لمر تېزې او تودې پلوشې، دغه ګرد د الله قدّوس د کامله قدرت نمونې دي، چې د دوی ځنې د هر يوه نظام عليحده او مستقل دی، او له هره يوه سره په زرهاوو فوائد او مصالح ټرلي دي، او د دغو ګردو مجموعې نظام سره ښل دی، چې له شروع څخه تر اوسه او تر «ما شاء الله» پورې د نهايتو مضبوطو اصولو، او ټينګو قوانينو لاندې دور او حرکت کوي.

﴿فَمَحَوْنَآ اٰيَةَ الَّيْلِ﴾ يعنې د شپې نمونه تياره او ورکه ده، او د سپوږمۍ روښنايي د لمر په اعتبار سپکه روښنايي او لږ څه تياره ښکاري، لکه پخپله د سپوږمۍ جرم (چکی او ټيکلی) د کتونکي په نظر داغداره ښکاري.

﴿وَجَعَلْنَآ اٰيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً﴾ الآية - يعنې د ورځې په وخت کې چې د لمر په پلوشو هر شی صاف او ښکاره په نظر راځي، خلق تازه دمه بيا پر خپلو چارو کې لګيا کيږي، او د رزق او روزی په تلاش او لټولو پسې لويږي، او په رنګارنګ کارونو کې مشغوليږي، الغرض پر هغه شيانو چې د شپې له مخې د تيارو پرده لوېدلې وي، د لمر پلوشې هغه ټول سره بې پردې کوي، او د هغو کسانو ستر ګې خلاصوي، چې تر اوسه په درانه خوب کې ويده او مدهوشه پراته وو، چې دغه لوري او هغه لوري ته په تګ او راتګ او کاروبار کې سره بوخت او لګيا په نظر راځي.

﴿وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنٰهُ تَفْصِيلًا﴾ تاسې ښه وپوهېږئ چې له ويرېدلو، او شورماشور لګولو او ژر غوښتلو څخه هيڅ يوه فائده په لاس نه درځي، الله تعالى د خير او د شر او د نور هر څيز اندازه هم داسې مقدره او مقرره کړې ده، لکه چې د شپې او د ورځې اندازې مقررې دي، چې د هيڅا په ژر غوښتلو او چالاکی کولو سره نه شپه لنډيږي، او نه ورځ اوږديږي، او ګرد پخپله همغه مقرر وخت کې صبا او بېګا کيږي، د شر څخه وروسته د خير ځنې پس د شر راتګ هم داسې وګڼئ ! لکه چې ورځې پسې شپه او شپې پسې ورځ راځي، او د هغه سلسله پرله پسې ده، د دنيا د ګرد خير او شر سلسله د يوې معينې ضابطې او نظام لاندې ده، چې د هغه ماتول، يا لرې کول د هيڅا له واکه نه دي پوره، او نه امکان لري.

وَكُلَّ اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰهُ طٰٓئِرَهٗ فِيْ عُنُقِهٖ ۭ وَنُخْرِجُ لَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ كِتٰبًا يَّلْقٰىهُ مَنْشُوْرًا ﴿۱۳﴾ اِقْرَاْ كِتٰبَكَ ۭ كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا ﴿۱۴﴾

او هر انسان لازم کړی دی مونږ له ده سره عمل د ده (يا عمل نامه دده، يا بخت تالی ، او قسمت دده) په غاړه د ده کې، او راوبه باسو ده ته په ورځې د قيامت کې يو کتاب (ليکلی شوی) چې يو ځای به شي، وبه ويني هغه غوړېدلی. (او وبه ويلی شي ده ته): ولوله (دا) کتاب ستا (عملنامه خپله)، کافي دی همدا ځان ستا نن ورځ پر تا حساب کوونکی (د نېکيو او د بديو).

تفسير: يعنې د قسمت شومي او د اعمالو بدي د ده د غاړې غړوندی ګرځېدلی دی، چې له سره ترې نه بيليږي، او د قيامت په ورځ به يې هم هغه په نظر ورځي، او هر يوه انسان ته د ده اعمالنامه پخپل لاس کې ورکول کيږي، چې پخپله يې ولولي او فيصله وکړي، چې هغه کارونه چې ده پخپل ګرد عمر کې کړي دي، ټول په کې شته؟ يا ترې څه شی پاتې دي؟ يا په کې څه زيات شی ليکلی شوی دی؟ نو هر سړی به په دغه وخت کې يقين کوي، چې د هغه يوه يوه ذره عمل بې له تزييده او تنقيصه په کې شته.

پخوا له دې نه دغه ذکر وو، چې په دنيا کې الله تعالى کتاب لوی قرآن لېږلی دی، او هغه حساب چې له لمر او سپوږمۍ او له نورو سره متعلق دی، اوس په دغو لوستليو شويو آيتونو کې يې د قيامت د حساب او کتاب ذکر وفرمايه، چې پر هغه پخواني حساب او کتاب باندې د نتيجې په ډول مرتّب کيږي.

مَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۭ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۭ

هر چا چې سمه صافه لاره ونيوله؛ نو بېشکه همدا خبره ده چې سمېږي دی په لارې لپاره د (نفعې د) ځان خپل، او هر څوک چې ګمراه شو؛ پس بېشکه همدا خبره ده چې ګمراه کېږي پر ضرر د ځان خپل، او نه اخلي هيڅ اخيستونکی بار د ګناه د بل چا.

تفسير: يعنې الله تعالى ګردو ته سمه صافه لاره ورښوولې ده، اوس که څوک پر هغې ځي که نه ځي اختيار لري، او پخپله دې خپله نفعه او نقصان وګوري ! ځکه چې د ده د عمل د طريقې نفع يا نقصان پخپله همده ته رسېدونکې ده، او د يوه سړي د ګناه پېټی او بار به د بل په سر نه باريږي.

وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا ۝۱۵

او نه يو مونږ عذاب ورکوونکي (هيڅ طائفې ته) تر هغه پورې چې وليږو مونږ کوم رسول (چې لاره د توحيد او شريعت ورته بيان کړي).

تفسير: يعنې بلا شُبهه بد عمل آفت راولي، خو الله تعالى پخوا له پوهولو څخه هيڅوک نه نيسي، نو ځکه رسولان ليږي، چې خلق غافله او بېخبره پرې نږدي، او له نېکو او بدو څخه يې په پوره ډول خبردار کړي، د هغو خبرو زياته تشريح او ډېر توثيق د انبياوو په ژبه وکړی شي، چې پرې انسان محض د عقل او فطرت په لار ښوونه پوهېدی شي (مثلاً د باري تعالى وجود يا يې توحيد) او هغه شيان چې ادراک يې په محض عقل سره نه وي کافي؛ د وحي او الهام په رڼا کې وړاندې کړی شي، نو ځکه د خلقت له ابتداء څخه الله تعالى د وحي او د رسالت سلسله جاري ساتلې ده، څو د انبياء عليهم السلام انوار او فيوض په دنيا کې داسې يوه فضا پيدا کړي، چې هيڅ يو معذّب قوم په دنيا يا په آخرت کې د جهل او ناپوهۍ عذر به وړاندې نه کړی شي، او په دغه پلمه د الله تعالى له عذابه ځان نشي ژغورلی (بچ کولی).

تنبيه: دلته مفسرانو د «أصحاب الفترة» او وړکيو پر تعذيب باندې بحثونه کړي دي، چې مونږ يې په دغه ځای کې د تطويل له خوفه نه شو ليکلی.

وَاِذَآ اَرَدْنَآ اَنْ نُّهْلِكَ قَرْيَةً اَمَرْنَا مُتْرَفِيْهَا فَفَسَقُوْا فِيْهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنٰهَا تَدْمِيْرًا ۝۱۶

او کله چې اراده وفرمايو مونږ د دې چې هلاک کړو کوم کلی (ښار)؛ نو امر وکړو مونږ غټانو (مالدارانو) د هغه (ښار) ته (په طاعت د الله سره)؛ نو فسق وکړي دوی په هغه کې، نو حق (او ثابت) شي پر (ذمه د اوسېدونکو) د هغه کلی خبره (د عذاب)، نو هلاک کړو مونږ دوی په هلاکولو سختو سره.

تفسير: يعنې کله چې د بد عمليو په سبب کوم کلی (يا ښار) تباه کېږي؛ نو خلق يې همداسې يو ناڅاپي دفعتاً نه نيول کېږي او نه هلاکېږي، بلکه د حجّت له اتمامه وروسته سزا ورکوله کېږي، او د نبي يا د نبي د نائبينو په ژبه د الله تعالى احکام هغوی ته رسولی کېږي، خصوصاً د هغه ځای مشرانو او بارسوخو خلقو ته چې د هغوی له منلو او نه منلو اثر پر ټولو لويږي، خو هرومرو (خامخا) اطلاع ورکوله کېږي، کله چې دغه مغروران او متکبّران سره له پوهې د الله تعالى پيغام نه مني، او په ټوکو او مسخرو بلا تکلّفه ترې غاړه غړوي، او په دغه وضعيت هغه کلی خراب او مسموي، دلته نو دغه کلی خپل ځان ښکاره مجرم ثابتوي، او د الله تعالى د عذاب مستحق ګرځي، نعوذ بالله من شرور أنفسنا.

تنبيه: ځينې سلف وايي چې: په دې ﴿اَمَرْنَا مُتْرَفِيْهَا﴾ آيت کې له امر نه مراد «أمر تكويني قدري» دی، او په ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ﴾ کې د أمر تشريعي نفي مراده ده، نو د دواړو آيتونو په منځ کې هيڅ تضاد نشته.

وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُونِ مِنْ بَعْدِ نُوحٍ ۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ بِذُنُوبِ عِبَادِهِ خَبِيرًا بَصِيرًا ﴿۱۷﴾

او ډېر هلاک کړي دي مونږ له (اهل د) قرنونو پس له نوح (لکه عاديان او ثموديان او نور)، او کافي دی رب ستا په ګناهونو د بندګانو خپلو ښه خبردار ښه ليدونکی.

تفسير: د آدم عليه السلام له زمانې څخه د نوح عليه السلام تر زمانې پورې ګرد خلق مسلمانان وو، وروسته شرک او بت پرستي پيدا شوه، نو نوح عليه السلام د هغوی د اصلاح لپاره ولېږلی شو، نوح عليه السلام تر سلهاوو کلونو پورې خلقو ته دعوت او تبليغ وکړ، مګر هيڅ اثر يې پر دوی ښکاره نشو، بالآخر هغوی ټول په طوفان (ځپاند) کې هلاک کړل شول.

وروسته له دوی نور ډېر اقوام (لکه عاد، ثمود، او نور هم) هلاک کړل شو، حاصل يې دا چې د اقوامو د اهلاک سلسله د نوح عليه السلام د بعثت څخه وروسته شروع شوه.

﴿وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ﴾ الآية ـ يعنې هيڅوک بې قصوره نه نيول کيږي، او هيڅا ته نامناسبه سزا نه ورکوله کيږي، بلکه د هر چا ګناهونو ته ګوري، او د هغه ګرد اوضاع او اطوار په پوره ډول ورڅرګند (ښکاره) او معلوم دي، او د هغو سره مناسبه او موزونه سزا ورته ورکوي، او همغسې معامله ورسره کوي.

مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَنْ نُرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ جَهَنَّمَ يَصْلَاهَا مَذْمُومًا مَدْحُورًا ﴿۱۸﴾

هر څوک چې وي چې غواړي (په عمل خپل سره فقط) دغه دنيا، نو په تلوار به ورکړو مونږ ده ته په دې دنيا کې هومره چې زمونږ خوښه وي، لپاره د هغه چا چې اراده وفرمايو مونږ، بيا به وګرځوو مونږ ده ته دوزخ (په آخرت کې) چې ننوځي به په هغه دوزخ کې، ملامت کړی شوی شړلی شوی (له رحمته).

تفسير: يعنې دا ضروري نه ده چې د دنيا هر يو عاشق (مين) فوراً هلاک کړی شي، بلکه مونږ له دغو خلقو ځنې هغو کسانو ته چې تش د دنيوي متاع لپاره سرګردانه ګرځي، هر چا ته چې اراده وفرمايو او هغومره چې اراده وفرمايو، سم له خپله حکمته او مصلحته د دنيا سامان ورکوو، څو د دوی جدوجهد او د فاني نېکيو فاني ثمره ور ورسيږي، او که هغوی ته آخري سعادت مقدر نه وي؛ نو د شقاوت جام يې خو په پوره ډول تر څنډو (غاړو) پورې ورته ډک کړی شوی وي، او په نهايت ذلت او رسوايی د دوزخ د ابدي بنديخانې خوا ته په ټپل وهلو بيول کيږي.

وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَٰئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَشْكُورًا ﴿۱۹﴾

او هر څوک چې غواړي آخرت (جنت) او کوښښ کوي هغه ته کوښښ لايق د ده (په طاعت د الله سره) حال دا چې دی (خالص) مؤمن هم وي؛ نو دغه کسان دی کوښښ د دوی مقبول (په نزد د الله کې).

تفسير: يعنې د هر چا په زړه کې چې يقين او ايمان موجود وي، او په نېک نيت د الله تعالى رضا او خوښي او د اخروي ثواب لپاره د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ورښوولې لارې باندې په عملي ډول منډې وهي، او ورځغلي، نو مونږ د دوی کوښښ له سره ضائع او خراب کوونکي نه يو، او يقيناً د أحديت په دربار کې په حسن قبول سره به مفخر او سرلوړی کيږي.

كُلًّا نُّمِدُّ هَٰؤُلَاءِ وَهَٰؤُلَاءِ مِنْ عَطَاءِ رَبِّكَ ۚ وَمَا كَانَ عَطَاءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا ﴿۲۰﴾

هر يوه (له دغو طلب ګرو د دنيا او عُقبى) سره مدد کومک کوو مونږ دغه (اول ټولي) سره (چې طالبان د دنيا دي)، او د دغه دويم ټولي سره (چې طالبان د عُقبى دي) له ورکولو د رب ستا، او نه دي ورکول د رب ستا (په دنيا کې) منع کړی شوي (له هيڅا نه).

تفسير: يعنې الله تعالى سم له خپله حکمته او مصلحته ځينو د دنيا طالبينو ته دنيا، او د آخرت ګردو طالبانو ته آخرت عطا فرمايي، د الله تعالى په عطا کې هيڅوک مانع او مزاحم نشي کېدى، يا يې دا مطلب چې د دنيا طالب وي، يا د آخرت دغو دواړو ته له دنيوي امداد څخه حسب المصلحت حصه ورسيږي، محض د کفر او عصيان لامله د دنيوي بخشش دروازې او ورونه نه پرې ټرلى کيږي.

انظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ وَلَلْآخِرَةُ أَكْبَرُ دَرَجَاتٍ وَأَكْبَرُ تَفْضِيلًا ﴿۲۱﴾

وګوره چې څرنګه فضيلت ورکړی (غوره کړي) دی مونږ ځينې د دوی ته پر ځينو نورو (په رزق او په نورو کې)، او خامخا آخرت ډېر لوی دی له جهته د مرتبو او ډېر لوی دی له جهته د بهتر والي (له دنيا نه).

تفسير: يعنې لکه چې دنيوي ژوندون کې د مال، دولت، عزت، حکومت او د نورو په اعتبار يو په بل باندې يوه اندازه فضيلت لري، په همدې باندې قيامت هم قياس کړئ ! چې په آخرت کې به د اعمالو او احوالو په لحاظ په څه اندازه د مراتبو فرق وي، لکه چې له نصوصو څخه ثابت دي چې د جنت درجات، او د جهنّم درکات سره بې حده متفاوت دي، په حديث کې راغلي دي چې په جنت کې سل درجې دي، او په هرو دوه درجو کې به د ځمکې او اسمان په اندازه تفاوت وي، لاندني اوسېدونکو ته به باندني اوسېدونکي داسې ښکاري لکه چې مونږ ته له ځمکې څخه په افق کې ستوری برښي، پخوا يې رانبوولي وو؛ چې د جنّت دغه درجې د هغو کسانو په برخه کيږي، چې د آخرت لپاره د هغه سره لائقې منډې يې وهلي وي، او لازم کوښښ او زيار (محنت) يې ورښکلى وي، په وروستنيو آياتونو کې تر لرې ځايه پورې د آخرت د سعي طريقه رابنوولې شوې ده، چې د هغې په تعميل سره انسان ته دغه لوړ مقامات حاصليږي، د ابن عبّاس رضي الله تعالى عنهما قول دی چې: «حق تعالى د (تورات) ګرد اخلاقي تعليم د بني اسرائيلو د سورت په (۱۵) آيتونو کې داخل کړی دی، هغه پنځلس آيتونه د دې سورت له درېمې رکوع له سره څخه شروع کيږي.

لَا تَجْعَلْ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُومًا مَّخْذُولًا ﴿۲۲﴾

مه نيسه (ای بنده) سره له الله معبود بل، (او که دې ونيو)؛ نو به کښې (تل په دوزخ کې) ملامت کړی شوی بې ملګری (بې برخې کړی شوی له خيره).

تفسير: يعنې شرک داسې ظاهر البطلان ځيز دی، چې د هغه له اختيارولو څخه د الله تعالى او د هغه پرښتې، بلکه د دنيا د ګردو پوهانو په نزد تاسې مذموم او ملزم ګرځئ ! لکه چې نن مونږ پخپلو سترګو سره ګورو په هغو مذاهبو کې چې د شرک صريح تعليم وو؛ هغه هم د پوهانو په جرګو کې د ځای حاصلولو لپاره ورو ورو د خپل مذهب اصلاح او ترميم کړی دی، او د توحيد په لوري رانژدې کيږي، هر يو عاقل دغه محسوس کړی دی، چې اشرف المخلوقات انسان لپاره به دغه ډېر د ذلت او رسوايۍ موجب وي، چې له خپله ښکته، يا د کوم عاجز مخلوق په مقابله کې سر په سجده ولويږي، خصوصاً بيا هغو ځيزونو ته د غوښتنې لاس وغځوي چې هغه يې پخپله تورلى او جوړ کړی وي، هغه

کسان چې پاک الله پرېږدي، او د غير الله په مقابله کې سر ښکته کوي؛ نو بې نيازه الله جل جلاله د حقيقي نصرت او برکت دروازه پر دوی تړي، او د کمزورۍ او بېکسۍ په حالت کې يې پرېږدي، لکه چې د سخت مشکل او صعوبت په وخت کې دی امداد او اعانت ته ډېر اړ او محتاج وي، هيڅوک به له ده سره مرسته او معاونت ونه کړي، «ضَعُف الطالبُ والمطلُوب».

وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ۭ اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَآ اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا ۝ وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِيْ صَغِيْرًا ۝

او حکم فرمايلی دی رب ستا چې عبادت مه کوئ تاسې (د بل هيڅا) مګر يواځې د همدغه (الله)، او (احسان کوئ) له والدينو (مور او پلار) سره په احسان کولو سره، او که چېرې هرومرو ورسېد تا ځخه زوړوالي ته يو له دې دواړو د دوی (يعنې مور او پلار)؛ نو مه وايه ته دې دواړو ته (کلمه د) اف، او مه رټه دوی دواړه، او وايه دې دواړو ته خبره پسته (ادبناکه). او ښکته کړه لپاره د دې دواړو وزر (اوږه) د تواضع (نه د تکبّر) له مهربانی، او ووايه: ای ربه ځما ! مهرباني (او بخښنه) وکړه دې دواړو ته لکه چې تربيه (پالنه) يې کړېده ځما په هغه حال کې چې زه صغير وړوکی ووم.

تفسير: په حقيقت سره خو پاک الله د مولود وجود عطاء فرمايي؛ مګر والدين (مور او پلار) دده د ايجاد ظاهري ذريعه ده؛ نو ځکه پاک الله په ځو آياتونو کې د خپلو حقوقو پسې د والدينو د حقوقو ذکر فرمايلی دی، په حديث کې راغلي دي: «هغه سړی له خاورو سره برابر او ذليل شو، چې خپل مور او پلار وموميٓ، او دوی د خدمت کولو په وسيله جنّت ځان ته حاصل نه کړي».

له والدينو سره نيکي کول دا دي: چې په ژوندون کې پخپل ځان او مال سره د هغوی خدمت وکړي، او د زړه په اخلاص سره د دوی تعظيم او محبّت په ځای راوړي، او د مړ کېدلو ځخه وروسته د هغوی جنازه اداء کړي، او د دوی لپاره دعاء وغواړي، او حتی المقدور د هغو عهد پوره کړي، او د دوی له دوستانو سره په تعظيم او ښه سلوک معامله وکړي، او د دوی له اقاربو سره د صله رحمی او ښېګڼې (نېکی) چارې وکړي، وغير ذلک.

﴿اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَآ اَوْ كِلٰهُمَا﴾ الآية ـ په زوړتوب کې د خدمت احتياج زيات وي، چې د دې لامله آل او عيال هم زړه تنګی او پرېشانه کيږي، او په زوړوالي کې هوښ او حواس هم پخپل ځای کې نه وي پاتې، د ښه او سعادتمن اولاد کار دا وي، چې په داسې وخت کې د والدينو له خدمت ځنې زړه تنګه نشي، پاک قرآن تنبيه راکوي چې د مور او پلار رټل او ناکاره خبرې کول چېرې، بلکه تش د «أف» کلمه دې هم د دوی په مقابل کې له خولې ځخه نه وباسي ! چې د زړه تنګی علامه ده، بلکه د خبرو او اترو په وخت کې د دوی ادب او تعظيم دې په پوره ډول سره وکړي ! سعيد بن المسّيب (رحمه الله) فرمايي چې: «صالح ولد ته لازم دي، چې له مور او پلار سره داسې خبرې اترې وکړي لکه چې يو خطاکاره مريي د خپل سخت مزاج بادار (سردار) سره په نهايت خوف او وېره خبرې کوي».

﴿وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ﴾ الآية ـ يعنې څه وخت چې زه بيخي کمزوری او ناتوانه وم؛ دوی ځما په تربيت او روزنه خپلې خولې بهولي دي، او سم له خپله خياله او توانه يي ما ته د هر راز راحت، خوشالی، او د ښېګڼې (فائدې) د رسولو په فکر کې وو، له زړګونو آفاتو او حوادثو ځنې ځما د ژغورنې او ساتنې په فکر او کوښښ کې وو، په ځو ځلې ځما له خاطره خپل ځان په مصائبو او مصاعبو او متاعبو غورځولی دی، نن چې د دوی د ضعيفی وخت

راغلی دی؛ نو څه چې ځما له قدرته او توانه کیږي، زه هم د هغوی خدمت او تعظیم کوم، خو د دوی پوره حق نشم اداء کولی، ځکه ای الله ! ستا له درباره استدعاء کوم چې په دغه زوړالي او وروسته له موته پر دوی باندې د رحمت نظر وفرمایې !.

په حدیث کې راغلي دي چې «د پاک الله رضاء د مور او پلار په رضاء کېدلو کې ده، او په غضب کېدل د الله تعالی د مور او پلار په غضب کې دي»، او په بل حدیث کې داسې راغلي دي چې «ځان وساتئ له عاقوالي د مور او پلار نه ! ځکه بوی د جنت چې د یو زر کاله لار له مسافې نه نېکانو ته رسیږي؛ هغه عاقّ الوالدین ته له سره نه رسیږي».

رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ ۖ إِنْ تَكُونُوا صَالِحِينَ فَإِنَّهُ كَانَ لِلْأَوَّابِينَ غَفُورًا ﴿٢٥﴾

رب ستاسې ښه عالم (خبردار) دی په هغه څه چې په نفسونو (زړونو) ستاسې کې دي، که یئ تاسې نېکان (له خپلو میندو او پلرونو سره)؛ نو بېشکه چې الله دی لپاره د توبه کوونکي ډېر مغفرت کوونکی (د خطیئاتو).

تفسیر: یعنې د والدینو تعظیم او د دوی په مقابله کې تواضع او عاجزي کول ښایي چې د زړه په اخلاص او صمیمیت وي، الله تعالی ته ښه معلوم دی چې کوم یو او څرنګه د مور او پلار خدمت کوي، که في الواقع تاسې نېک او سعادتمن یئ، او د الله تعالی په لوري رجوع کوئ، او په اخلاص او حق پېژندلو د دوی خدمت کوئ؛ نو الله تعالی به ستاسې خطاوې او تقصیرات معافوي.

فرض یې کړئ که کوم وقت د نېک نیتی، له زړه تنګی یا د فکر او چرت د خرابوالي لامله ستاسې ځنې د مور او پلار د خدمت څخه څه څیز پاتې شوی وي؛ نو بیا توبه او رجوع ترې وکړئ ! نو پاک الله ډېر مغفرت کوونکی دی.

تنبیه: د دې خبرې تفصیل دې په فقهیه وو او نورو کتابونو کې وکتلی شي، چې د والدینو فرمان منل په کومو ځایونو کې روا؟ او په کومو کومو ځایونو کې ناروا دی؟ په «روح المعاني» کې هم پر دغه موضوع مفید او مبسوط کلام شوی دی، فلیُراجع.

وَآتِ ذَا الْقُرْبَىٰ حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا ﴿٢٦﴾

او ورکوه (ای بنده !) خاوند د خپلوی ته حق د هغه او مسکین نادار ته او مسافر ته او اسراف مه کوه ! په اسراف کولو سره.

تفسیر: یعنې د اقاربو او خپلوانو هر قسم مالي او اخلاقي حقوق اداء کړئ ! د محتاجانو او مسافرانو له احواله ځان خبروئ ! فضول خرڅ دا دی چې پر معاصیو او لغویاتو مال ولګول شي، یا په مباحاتو کې بې فکره او بې له مصلحته او بې د خیر او شر معلومولو څخه دومره زیات ولګولی شي، چې وروسته له هغه د حقوقو د فوتېدو او د حرامو د ارتکاب سبب وګرځي.

إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ ۖ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا ﴿٢٧﴾

بېشکه چې اسراف کوونکي دي دوی وروڼه د شیطانانو (یعنې په مثل د شیطانانو دي په شرارت او اتلاف کې)، او دی شیطان رب خپل ته ډېر ناشکره.

تفسیر: یعنې مال د الله تعالی لوی نعمت دی، چې په هغه سره په پوره زړه او خاطر جمعی سره عبادت کیږي، او د نورو اسلامي خدماتو او د نېکیو انجام هم په هغه سره په عمل راځي، نو د مال بېځایه لګول او صرفول داسې ناشکري ده

چې د شيطان له اغواء او تحريکه او په وقوع راځي، او انسان په ناشکرۍ د شيطان سره مشابه او ورته کيږي، همغسې چې شيطان د الله تعالى ورکړي قوّتونه په عصيان او اضلال کې صرفوي، دى هم د الله تعالى ورکړي نعمتونه د هغه په عصيان او نافرمانۍ او طغيان کې لګوي.

وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَاءَ رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُل لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُورًا ﴿۲۸﴾

او که اعراض کاوه تا له دغو (ذوي القربى، مساکين، ابن السبيل او نورو نه) لپاره د طلب د رحمت (مهربانۍ) له رب ستا چې ته اميد لرې د هغه (رحمت)؛ نو ووايه هغوى ته خبره پسته خوږه.

تفسير: يعنې هغه څوک چې تل سخاوت کوي، او يو وخت له هغه سره څه شى نه وي، نو د الله تعالى په نزد چې د اميد کوونکي ناامېده تلل ښه نه ښکاري، او د هغه محتاج قسمت الله تعالى سخيانو ته رسوي؛ نو ځکه که يو وخت دى څه شى ورنشي کړى؛ نو په پستې او خوږې ژبې سره دې ترې معذرت او معافي وغواړي ! مثلاً ورته وويلى شي: کله چې الله ماته څه شى راکړي؛ نو ان شاء الله تعالى زه به دتا خدمت وکړم ! په سختى او بد اخلاقى سره له ځواب ورکولو څخه دغه اندېښنه شته چې چېرې ستاسې پخواني خيراتونه ابته او باطل او برباد شي.

وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ﴿۲۹﴾

او مه ګرځوه لاس خپل ترلى شوى تر غاړې خپلې پورې (يعنې بخل او شومتيا مه کوه)، او مه يې غځوه په بيخي غځولو سره (يعنې اسراف هم مه کوه) نو کښېنې به ته ملامت کړى شوى (په امساک کې)، بې ماله پښېمانه شوى (په اسراف کې).

تفسير: يعنې چې ګرد ورته مخ واړوي، چې کنسک، بخيل او مچ خوړونکى دى، يا دا چې دومره سخا او ورکړه دې ولې وکړه، چې ته پخپله محتاج او ناداره پاتې شوې؟ الغرض په هره معامله کې د توسّط او اعتدال رعايت پکار دى، نه خپل لاس دې له شومتيا او بخله دومره کلک ونيسه ! او راټولوه يې چې ستا له غاړې سره ولګيږي، او نه له خپله طاقته اوتوانه زيات داسې خلاص لاس او پرانستلى موټى ولرې، چې وروسته ته پخپله محتاج او په غوښتلو او سوال خوله پرانيځې، او ستا لاس همغسې خلاص پاتې شي، (ابن کثير رحمه الله) ليکي: «فتعطي فوق طاقتک، وتُخرج أكثر من دخلک»، يعنې له خپله طاقته زيات يا له خپله دخله زائد صرفول هم د ﴿وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ﴾ لاندې داخل دى، په حديث کې راغلي دي: «ما عال من اقتصد» «نه محتاجيږي هغه څوک چې ځان ته اقتصاد غوره کړي».

إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهُ كَانَ بِعِبَادِهِ خَبِيرًا بَصِيرًا ﴿۳۰﴾

بېشکه رب ستا پراخوي روزي لپاره د هغه چا چې اراده وفرمايي (د پراخولو يې)، او تنګوي (يې په هغه چا چې اراده وفرمايي)، (د تنګولو يې) بېشه چې دغه (الله) په (مصالحو د بندګانو خپلو) ښه خبردار ښه ليدونکى دى.

تفسير: يعنې ستاسې له امساک او لاس نيولو څخه به نه تاسې غنيان کيږئ، او نه به نور فقيران ګرځي، او نه ستاسې له سخاوته هغه غني کيږي، او نه تاسې فقيران کيدى شئ، د فقر او د غناء د مختلفو احوالو رالېږل د هغه مالک على الاطلاق په لاس دي، ستاسې کار په توسّط او اعتدال او اقتصاد کې د الله جل جلاله د حکم امتثال دى.

وَلَا تَقْتُلُوٓا أَوْلَٰدَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَٰقٍ ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ ۚ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْـًٔا كَبِيرًا ﴿٣١﴾

او مه وژنئ تاسې اولاد خپل د وېرې د فقره، همدا مونږ روزي ورکوو دوی ته او تاسې ته هم، بېشکه چې قتل د دوی ده خطا (ګناه) لويه، (چې د نسل او د نوعې قطع ده).

تفسير: ځينو کافرانو خپل اولادونه وژل، چې د دوی خواړه او لګښت مونږ له کومه کړو، په (۸ جزء د الأنعام سورت په (۱۹) رکوع) کې په همدغه مضمون يو آيت تېر شوی دی؛ تفصيل دې وکتل شي، او دغه د بې رحمۍ حرکت د انسانيت او د تهذيب له اصوله مخالف دی، او له دی څخه ځرګندېږي (ښکاريږي) چې داسې کوونکی د الله تعالى پر رزاقيت اعتماد نه لري.

وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰٓ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً ۖ وَسَآءَ سَبِيلًا ﴿٣٢﴾

او مه نژدې کېږئ تاسې زنا ته، بېشکه چې دا زنا ده قبيحه (عقلاً او شرعاً)، او بده ده دغه زنا له جهته د روش هم (چې زيان او فتنه ترې پيدا کيږي).

تفسير: يعنې زنا کول خو ډېر سخت کار دی، تاسې زنا ته مه نژدې کېږئ !، په ﴿وَلَا تَقْرَبُوا﴾ کې د زنا له دواعيو او مبادیو څخه د نه نژدېوالي او نه تقرّب هدايت کړی شوی دی، يعنې پردی ښځې ته بې له شرعي عذره کتلو او نظر کولو، مچي کولو، لاس وروړلو او نورو څخه ځانونه وژغورئ (وساتئ)، او بيخي د پردیو ښځو له مقاربته لرې ګرځئ ! ځکه چې له زنا څخه په انسابو کې بې نظمي او بې ترتيبي او اشکال پيښيږي، او ډېر قسم جنګونه او جګړې ترې پيدا کيږي، او د ګردو لپاره يوه بده لاره په وجود راځي.

شاه صاحب ليکي: «که دغه لاره جوړه شي؛ نو يو سړی به د بل سړي پر ښځه نظر اچوي، او هغه به د ده ښځې ته ګوري، د امام أحمد (رحمه الله) په مسند کې راغلي دي چې: «يو سړي رسول أکرم صلى الله عليه وسلم ته عرض وکړه چې: «ماته اجازه راکړه چې زنا وکړم !» د دې خبرې د اورېدلو څخه ګرد حاضرين ورته په قهر شول، چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مخکې داسې ګستاخي؟ خبردار چپ شه !، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې: «آيا ته دغه حرکت د خپلې مور، خور، ترور، تورۍ او نورو په نسبت خوښوي؟» هغه عرض وکړ چې: «يا رسول الله ! الله دې ما له تا جار (قربان) کړي ! له سره يې نه خوښوم»، نو رسول الله مبارک وفرمايل چې: «نور خلق هم تا غوندې دي، او له سره خپلو مېندو، خويندو، تروريانو، تورېګانو او نورو په نسبت دغسې فعل نه خوښوي» بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته دعاء وکړه، چې ای الله ! د ده ګناه ورمعافه کړه ! او زړه يې ورپاک کړه ! او فرج يې وساته !»، أبو أمامه رضي الله عنه فرمايي چې: له دغه دعاء څخه وروسته دغه سړي داسې متقي شو؛ چې ښځو او نورو مناهيو ته به يې له سره نه کتل».

«اللهم صل على سيدنا محمد وعلى آل سيدنا محمد و على أصحاب سيدنا محمد وبارک وسلم».

وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِى حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ۗ وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِۦ سُلْطَٰنًا فَلَا يُسْرِف فِّى الْقَتْلِ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورًا ﴿٣٣﴾

او مه وژنئ تاسې نفس هغه چې حرام کړي دي الله (وژل د هغه) مګر په حقه سره (چې ارتداد او زنا مع الإحصان او قصاص دی)، او هر څوک چې ووژلی شو په دې حال چې مظلوم وي؛ نو په تحقيق ګرځولی دی مونږ لپاره د وارث د هغه زور (او قوّت چې له قاتل څخه انتقام اخستی

شي)، نو اسراف دې نه کوي په قتل کې (چې غير حق بل څوک وژني بې له قاتله)، په تحقيق دغه (وارث) دی مدد ورسره کړی شوی.

تفسير: په صحيحينو شريفينو کې راغلي دي، چې د هيڅ مسلمان وينه تويول نه دي حلال، مګر په درې صورتونو کې: (۱): د ځان په بدل ځان، (۲): د محصن زاني، (۳): د هغه سړي چې دين پرېږدي، يا مرتد شي، او له جماعته بيلېږي.

﴿وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُومًا﴾ الآية ـ يعنې د مقتول اولياء اختيار لري چې د حکومت په وسيله د هغې وينې بدل واخلي، او هغه قاتل په قصاص ورسوي، ليکن د بدل اخيستلو په وخت کې له حده تېری ونه کړي ! مثلاً د قاتل په ځای دې غير قاتل نه وژني !، يا نور بې ګناهان دې له قاتل سره نه شاملوي ! يا د قاتل پوزه، غوږونه، اونور دې نه پرې کوي ! او مُثله دې ونه کړي !.

﴿إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا﴾ يعنې الله له هغه وارث سره مدد وفرمايه، چې د بدل اخيستلو حق يې ورکړ، او حاکمانو ته يې امر وفرمايه چې د دغه وارث په حق رسونه کې دې هيڅ قصور ونه کړي !، بلکه پر هر چا باندې لازم دي چې د وينې په بدل اخيستلو کې له وارث سره معاونت او مرسته وکړي ! نه چې بالعکس د قاتل حمايت وکړي، او پر وارث باندې هم لازم دي چې د يوه په ځای دې دوه تنه نه وژني !، يا که پخپله قاتل يې په لاس ورنشي، نو داسې نه چې د هغه قاتل ځوی يا ورور يا نور ووژني، لکه چې د جاهليت په زمانه کې همداسې بد رواج وو.

وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُ ۚ وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ ۖ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا ﴿٣٤﴾

او مه نژدې کېږئ تاسې مال د يتيم ته (او تصرّف په کې مه کوئ) مګر په هغې طريقې سره چې وي هغه ډېره ښه (په حفاظت او زيادت کې)، تر هغه پورې چې ورسېږي حدّ د بلوغ خپل ته، او وفا کوئ په عهد، بېشکه چې عهد دی پوښتېدلی شوی (له عاهده).

تفسير: يعنې د يتيم مال ته لاس مه ورووړئ ! هو، که د هغه د مال حفاظت او صيانت او خبر غوښتنه ستاسی مقصود وي؛ نو په هغه کې هيڅ مضائقه نشته، څه وخت چې دغه يتيم ځلمی شي، او پخپل نفع او نقصان وپوهېږي، نو مال يې وروسپارئ !.

په دغه ﴿وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ﴾ کې ګرد عهدونه داخل دي، که له الله تعالی سره وکړی شي، يا له بندګانو سره مشروط په دې چې غير مشروع نه وي.

وَأَوْفُوا الْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٣٥﴾

او پوره ورکوئ تاسې پيمانه هر کله چې پيمانه کوئ تاسې، او تول کوئ تاسې په تلې برابرې سره، دغه (پوره کول د کيل او وزن) خير ډېر غوره او خورا (ډېر) ښه دی له خيانته له جهته د مآل (او عاقبت).

تفسير: يعنې د وزن په وخت کې ډنډې مه وهئ ! په تللو او پيمانه کولو کې له تزييد او تنقيصه د معاملاتو نظام مختل (خراب) کېږي، او په کې ګډوډي رائي، د شُعيب عليه السلام د قوم د اهلاک قصه پخوا له دې نه تېره شوه، د هغوی ډېره لويه عملي ګناه همدغه بيان شوې ده، په روايا‌تو کې راغلي دي: «د هر هغه سړي چې پر حرامو قدرت وموميِ، او محض د الله تعالی له وېرې هغه ونه کړي؛ نو الله تعالی پخوا له آخرته په دنيا کې د هغه نعم البدل ورعطاء کړي».

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ ۚ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا ﴿٣٦﴾

او مه کوه پيروي د هغه کار چې نه وي تا ته په هغه پوهه (قول وي که فعل)، بېشکه غوږ او سترګه او زړه هر يو له دغو (درې واړو) دي له هغه څخه پوښتنه کړی شوي (په قيامت کې چې تا په دنيا کې ولې ګناه کوله؟).

تفسير: يعنې بې له تحقيقه خبره له خپلې ژبې څخه مه وباسه ! او نه په ناپوهی او په پټو سترګو د هغه متابعت وکړه ! انسان ته ښايي چې له خپلو غوږونو او زړه او ماغزو څخه کار واخلي ! او د کفايت په اندازه تحقيق او تعمّق وکړي ! بيا دې يوه خبره له خولې څخه وباسي ! يا پر کومه خبره عمل وکړي ! له اورېدلو شويو سره کوم قطعي حکم صادر نه کړي ! او نه پرې عمل وکړي !.

په دغه کې د دروغو شهادت، غلط تهمتونه لګول، بې له تحقيقه خبرې اورېدل، بې له تحقيقه د کوم سړي د ربړولو (تکليف رسولو) پسې لوېدل، يا چټي (بېکاره) بغض او عداوت ورسره قائمول، د پلرونو او د نيکونو چټي تقليد پسې لوېدل، د رسم او رواج لامله د خلاف الشّرع او ناحقې خبرې حمايت کول، د نااليدلو او نااورېدلو شيانو، لکه ليدلي يا اورېدلي څرګندول، د غير معلومو شيانو په نسبت داسې دعوی کول چې زه پرې پوهېږم، دغه ټول صورتونه د دغه آيت لاندې شامل دي، په ياد يې ولرئ ! چې د قيامت په ورځ کې د دغو ټولو قوتونو په نسبت به سوالونه کيږي، چې تاسې دغه قوتونه په کومو کومو ځايونو کې لګولي دي؟ او ولې تاسې هغه قوّتونه مو بې ځايه او بې موقعه صرف کړي دي؟.

وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا ﴿٣٧﴾

او مه ګرځه ته په ځمکه کې په دې حال کې چې خاوند د خيال (او تکبّر اوسې)، بېشکه چې ته له سره به ځيري نه کړې ځمکه (په دربولو د پښو سره له کبره) او له سره به ونه رسيږې (سرونو د) غرونو ته له جهته د اورږدوالي.

تفسير: يعنې د متکبّرانو تقليد او متابعت انسان ته ښه نه ښکاري، نه په زوره د پښو په دربولو سره ځمکه ځيريدی شي، او نه د غاړې له هسکولو (اوچتولو) او د ټټر د باندې ايستلو څخه سړی د غرونو په قدر جګيدی شي، نو بيا په داسې ضعف او عجز او په دغه بساط کې خپل ځان دومره پرسولو او اورږده غځولو څخه څه فائده په لاس راځي؟.

كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُ عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوهًا ﴿٣٨﴾

ګرد دغه (۱۱ امرونه ۱۲ نهي «ولا تجعل» نه تر دې ځايه)، ده بدي د هغه په نزد د رب ستا بد ګڼل شوې.

ذَٰلِكَ مِمَّا أَوْحَىٰ إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ ۗ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَتُلْقَىٰ فِي جَهَنَّمَ مَلُومًا مَدْحُورًا ﴿٣٩﴾

دا (ټول احکام) له داسې قسمه دي چې وحي کړې ده تاته رب ستا له حکمت (او عقلي کارونو څخه)، او مه نيسه ته له الله سره معبود بل، (که دې ونيو)؛ نو وبه غورځولی شې په دوزخ کې ملامت کړی شوی رټلی شوی (له رحمته د الله).

تفسير: يعنې پاس هغه پر مغز او ښېش بها نصيحتونه چې شوي دي، دا ګرد هغه علم او حکمت او تهذيب او موعظت او اخلاقي خبرې دي، چې سليمه عقول يې قبلوي، چې هغه ګرد د وحي په وسيله نبي أمّي صلى الله عليه وآله وصحبه وسلّم ته بلاواسطه او دغه محمّدي امت ته د رسُول الله صلى الله عليه وسلم په واسطه نازل او راليږلي شوي دي.

د پاس ذکر شويو نصائحو شروع له توحيد نه شوې وه: ﴿لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ إِلٰهًا آخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُومًا مَّخْذُولًا﴾، د هغه په خاتمه کې چې د ﴿وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ إِلٰهًا آخَرَ فَتُلْقٰى فِي جَهَنَّمَ مَلُومًا مَّدْحُورًا﴾ آيت دی؛ بيا هم د توحيد تذکر او يادونه شوې ده، څو قاري وپوهېده شي، چې د تمامو حسناتو ابتداء او انتهاء د الله تعالی د خالص توحيد سره وي.

أَفَأَصْفٰىكُمْ رَبُّكُمْ بِالْبَنِينَ وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ إِنَاثًا ۚ إِنَّكُمْ لَتَقُولُونَ قَوْلًا عَظِيمًا ﴿٤٠﴾

آيا نو غوره کړي يئ تاسې رب ستاسې په ځامنو سره او (پخپله الله ځان ته -په زعم ستاسې-) نيولي دي له پرښتو څخه ښځې، لونې، بېشکه تاسې چې يئ خامخا وايئ خبره ډېره لويه.

تفسير: يعنې يو د الله تعالی لپاره د اولاد تجويز، او اولاد هم د جونو په صورت چې تاسې هغو ته په ډېره سپکه ګورئ؛ ډېر جسارت او لويه سپين سترګي او ګستاخي ده.

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هٰذَا الْقُرْاٰنِ لِيَذَّكَّرُوا ۚ وَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤١﴾

او خامخا په تحقيق مکرّر بيان کړي مونږ په دغه قرآن کې لپاره د دې چې پند پرې واخلي دوی، اونه زياتوي دوی ته مګر تېښته او لرې والی (له حقه).

تفسير: يعنې قرآن عظيم په مختلفو عنوانونو او په رنګارنګ دلائلو او شواهدو دغه مشرکين پوهوي، لکه دغه بدبختان د پند او نصيحت د حاصلولو په ځای لا زيات تور خوري، او په وحشت تښتي، او د بې لارۍ په لوري منډې وهي، او ورځغلي.

قُلْ لَّوْ كَانَ مَعَهُۥٓ آلِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذًا لَّابْتَغَوْا إِلٰى ذِي الْعَرْشِ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې که وی له الله سره نور معبودان لکه چې وايي دغه مشرکان؛ نو هلته به خامخا لټولي به وو دغو (معبودانو) طرف د څښتن (خاوند) د عرش ته لاره (د ورتلو لپاره د جنګ).

تفسير: يعنې دغه اصنام او نور چې تاسې يې ای مشرکانو د الوهيت شريکان او حصه داران رابنيئ، که په واقع او رښتيا سره معبودان وی؛ نو دوی به د پردي محکوميت څرنګه خوښاوه؟ ښايي چې ګرد به ټولېدل، او د الله تعالی د سلطنت تخت به يې په بل مخ اړوه، که داسې ويلی کيږي چې د عرش د لوی څښتن (خاوند) په مقابل کې د دوی څه زور او قوّت نه رسيږي؛ نو د داسې يو عاجز مخلوق عبادت کول په انتهايي درجه حماقت دی، او که هغه معبودان پخپله د رب العرش د خوښۍ او رضا خوښوونکي دي، او د هغه د قرب حاصلولو پسې ګرځي، او د هغه خوشالي ځان ته ضرورت بولي؛ نو د هغو عابدانو ته زيات د دې خبرې ضرورت شته چې د الله أکبر د رضاء او د خوښۍ حاصلولو په فکر کې ولويږي، ليکن الله تعالی دګردو انبياوو عليهم السلام په ژبه او د انساني فطرت په معرفت له شرک څخه د خپلې بېزارۍ اظهار فرمايلی دی، نو بيا د تعجّب ځای دی، چې دغه أحمقان پر کومه لاره د ظالمانو او بې انصافانو په شان روان دي.

سُبْحٰنَهُۥ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوًّا كَبِيرًا ﴿٤٣﴾ تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ وَالْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ ۚ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِۦ وَلٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤٤﴾

پاکي ده الله لره او ډېر پورته دی له هغه څه چې وايي دوی، په ډېر لوی پورته والي سره. تسبيح وايي ده ته اسمانونه اوه واړه او ځمکه، او هغه څوک چې په دوی کې دي، او نشته هيڅوک

(له مخلوقاتو) مګر چې تسبيح وايي سره له ثناء د دغه (الله)، مګر نه پوهيږئ تاسې په تسبيح د هغوی، بېشکه دغه (الله) دی ښه تحمّل والا (په تأخير د عقوبت لپاره د انابت)، ښه بخښونکی د ګناهونو دی.

تفسير: يعنې هر مخلوق د «قال» په ژبې، يا د «حال» په ژبې د الله تعالی پاکي او ښېګڼه (صفت) بيانوي، ليکن تاسې پرې نه پوهيږئ (ځکه ستاسې په لُغت سره نه دي)، يعنې د تأمّل نه کولو له سببه يا د هغه قوّت د فقدان لامله چې د هغه په ذريعه د ځينو مخلوقاتو «قالي» تسبيح واورئ، او پرې وپوهيدی شئ، او که کوم سړی سره له نه پوهيدلو هغه قبول نه کړي، يا د هغه پر مقتضَی عمل ونه کړي؛ نو دغه پوهيدل د نه پوهيدلو په حکم کې دي.

وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُورًا ﴿٤٥﴾

او کله چې لولې ته (ای محمده) قرآن؛ نو ګرځوو (پيدا کوو) مونږ په منځ ستا او په منځ د هغو کسانو کې چې نه راوړي ايمان په (راتللو) د آخرت پرده پټوونکې تا لره (له سترګو د دوی).

تفسير: يعنې هغه سړی چې آخرت نه مني، او د خپل ښو او بدو انجام ته څه فکر نه چلوي؛ نو هغه به د نصيحت په طرف ولې خپل فکر لګوي؟ کله چې دی له سره د نجات په فکر کې نه دی؛ نو د رسول الله صلی الله عليه وسلم په احوالو او اقوالو کې د غور کولو يا د رسالت تر درباره پورې د رسېدلو څه ضرورت به ورپاتې وي، پس همدغه په آخرت باندې ايمان نه راوړل او د انجام له طرف بې فکري هغه معنوي پرده ده چې د دې سړي او د نبي عليه السلام په منځ کې ځړولې (لګولې) کيږي.

وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا ۖ وَإِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْآنِ وَحْدَهُ وَلَّوْا عَلَىٰ أَدْبَارِهِمْ نُفُورًا ﴿٤٦﴾

او ګرځوو (اچوو) مونږ پر زړونو د دوی پردې له دې خبرې نه چې پوه شي دوی په دغه (قرآن) او (ګرځوو اچوو) مونږ په غوږونو د دوی کونډوالی (چې قرآن وانه وري)، او کله چې ياد کړې ته رب خپل په قرآن کې يواځې (په توحيد سره بې له يادولو د باطلو معبودانو د دوی)؛ نو بېرته ګرځي دوی په شاګانو خپلو په دې حال کې چې ترهيدونکي وي (له اورېدلو د توحيد نه).

تفسير: ډومبی دغه ذکر وو، چې دوی د رسول الله د صداقت پورې نشي رسېدی، دلته د دې خبرې بيان دی چې د دوی فهم او فکر د قرآن عظيم الشأن تر زده کولو پورې هم نشي رسېدی، يعنې په دغه قرآنکريم کې داسې يو قوي تأثير شته، خو پر کفّارو باندې د هغه اثر ځکه نه لويږي؛ چې دوی ترې په پرده کې دي، لکه چې لمر ګرد جهان روښانوي، ليکن که کوم سړی په داسې يوه کوټه کې ناست وي، چې تر ځمکې لاندې جوړه شوي وي، او د رڼا د ننوتلو ګرد منافذ او سوري يې بند وي، او د دغې کوټې اوسېدونکی هيڅ له لمره نه وي خبر؛ نو په دغه اعتبار ګواکې د لمر د رڼا اثر هيڅېرې نشته.

﴿وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا﴾ يعنې کله چې دوی نه غواړي چې د انتفاع او استفادې په نيت يې واوري، نو ګواکې اوريدونکي نه دي.

تنبيه: دغه چې الله تعالی حجاب او پردې او نور اچولي دي، دغه خو همدغه شيان دي چې دوی د هغه وجود په ډېرې خوښۍ او فخر د خپلو ځانونو لپاره ثابت کړي وو: ﴿وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ وَفِي آذَانِنَا وَقْرٌ وَمِن بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ إِنَّنَا عَامِلُونَ﴾ (۲۴ جزء د حم السجده سورت (۵) آيت، (۱) رکوع).

پر آخرت ايمان نه لرل، او له انعام څخه بې فکره کېدل، د الله تعالی له ذکره تښتېدل، پر انبياء الله تمسخر او ملنډې وهل هغه شيان دي؛ چې د «حجاب»، «کنان» او «وقر» صورت اختياروي، او هر کله چې د هر شي خالق الله تعالی دی، نو ځکه د هغو د خلقت نسبت هم ربّ العزّت ته کولی شي.

نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِۦٓ إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ وَإِذْ هُمْ نَجْوَىٰٓ إِذْ يَقُولُ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴿٤٧﴾

مونږ ښه عالم يو په هغه غرض چې اوري دوی په سبب د هغه سره کله چې غوږ ږدي دوی تاته، او کله چې دوی مشورې (پټې خبرې) کوي، کله چې وايي ظالمان چې: متابعت نه کوئ تاسې (ای مسلمانانو !) مګر د يوه سړي چې جادو پرې شوی وي.

تفسير: يعنې د دې پاک قرآن له اورېدلو څخه د دغو کفّارو مقصود استفاده نه وي، بلکه محض استخفاف او استهزاء يې مطلوب وي، دوی پاک قرآن او ستاسې خبرې يې واورېدې او بېرته لاړل، او پخپلو منځونو کې يې مشورې وکړې، چې د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم په نسبت څه شی ښايي ووايو؟ بالآخر دا يې سره غوټه کړه چې پر دغه سړي جادو شوی دی، يعنې د جادو په اثر لېونی شوی دی، او دماغ يې له سره په ځای نه دي (العياذ بالله العظيم)، ځينې دلته له «مسحور» ځنې د «ساحر» معنی اخيستې ده، يعنې ګواکې د ده په خبرو کې د جادو (کوډې) اثر شته.

تنبيه: د «مسحور» له لفظ څخه کوم مطلب چې دوی اخيستی؛ د هغه له نفي څخه دغه نه لازميږي، چې پر نبي عليه السلام باندې به هيڅ قسم سحر په هيڅ يوه درجه په عارضي ډول هم اثر نشي اچولی، دغه آيت مکي دی، او په مدينې منورې کې ځمونږ پر رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې د يهودانو د کوډې کولو د واقعې ذکر په «صحاح» کې شته، چې د هغو اثر تر څو ورځو پورې يوائې دومره قدر ليده کېده، چې په ځينو دنيوي کارونو کې کله ناکله پرې د هېرې (ذهول) آثار ښکارېده.

ٱنظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا۟ لَكَ ٱلْأَمْثَالَ فَضَلُّوا۟ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا ﴿٤٨﴾

وګوره (ای محمده !) څرنګه بيانوي دغه کفّار تا لره مثالونه (مثلونه د ساحر، شاعر، کاهن او مجنون) نو ګمراه شول دوی، نو طاقت نه لري دوی د سمې لارې موندلو.

وَقَالُوٓا۟ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا ﴿٤٩﴾

او وايي دغه (منکران) آيا کله چې شو مونږ (پس له مرګه) هډوکي او خاروې ميده شوې، آيا په تحقيق به مونږ خامخا بيا راولاړ (او ژوندي) کړی شو په پيدا کولو نوي سره؟.

تفسير: يعنې پر تاسې د مسحور، مجنون، شاعر او کاهن د مثالونو لګول خوهرومرو (خامخا) تعجّب راوړونکي دي، خو له هغه څخه لا زيات د تعجّب وړ (لايق) هغه دليل دی چې (معاذ الله) د مسحور او مجنون ثابتولو لپاره دوی وړاندې کول، چې د هغه خلاصه دا ده چې له مرګه وروسته مونږ ګورو چې د انسان بدن ورسستيږي، او تک سپين هډوکي ترې پاتې کيږي، چې لږ موده وروسته هغه هډوکي هم رژيږي، او ذرې ذرې شي، او له خاورو سره ګډوډيږي، آيا کوم هوښيار او پوه سړی داسې کوم تجويز کولی شي، چې دغه هډوکي د وړو او د خاورو بڅرکي به بيا سره راټوليږي، او انساني حيات به په دغه منتشره ذراتو کې بيا راځي؟، که دغه نبي د داسې ناممکنې خبرې اخبار ورکوي؛ نو ثابتيږي چې (العياذ بالله) د ده دماغي صحّت په حال نه دی.

قُلْ كُونُوا حِجَارَةً أَوْ حَدِيدًا ﴿۵۰﴾ أَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِي صُدُورِكُمْ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا قُلِ الَّذِي فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَسَيُنغِضُونَ إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَ قُلْ عَسَىٰ أَن يَكُونَ قَرِيبًا ﴿۵۱﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) شئ تاسې تيږې (ګټې) يا اوسپنه، يا بل کوم قسم مخلوق له هغه قسمه چې ډېر لوی (او سخت) ښکاري په سينو (زړونو) ستاسې کې (قبلول د هغې حيات لره نو سره له هغه به هم بيا تاسې ژوندي کوو)، نو ژر به ووايي دوی: څوک به بېرته راولي مونږ (او ژوندي به مو کړي پس له مرګه؟)، ووايه (ای محمده !) هغه (ذات به تاسې بيا ژوندي کوي) چې پيدا کړي يې يئ تاسې اول کرت، نو ژر به وخوځوي دوی تاته سرونه خپل (له ډار د استهزاء او تعجبه) او وبه وايي دوی (تمسخراً): کله به وي دغه (بيا ژوندون؟)، نو ووايه (ای محمده ! دوی ته) ښايي چې وي دغه (بيا ژوندون) نژدې.

تفسير: يعنې دغه دوړې او د خاورو بڅرکي خو په هر حال د هغه انساني لاش آثار دي، چې پخوا له دې نه ژوندي وو، او پخپله د خاورو په ذراتو کې د حيات آثار پيدا کېدل دومره لرې او مستبعد نه دي، زه تاسې ته اجازه درکوم چې د هډوکو دوړې نه، بلکه که ستاسې له لاسه پوره وي؛ تيږې (ګټې) يا اوسپنې وګرځئ، چې د حيات د آثارو له قبلولو څخه بالکل محروم ښکاره شئ، يا کوم بل سخت شی جوړ شئ ! او تجربه وکړئ ! چې د هغوی ژوندي کېدل له اوسپنې او تيږې څخه هم زيات مشکل او سخت په نظر درځي، تر دې چې بيخي مجسم موت وګرځئ، خو سره له هغه هم دغه قادر مطلق جل جلاله ته ستاسې بيا ژوندي کول ډېر سهل او آسان کار دی، يعنې هغه ذات چې رومبی يې تاسې له خاورو يا له نطفې پيدا کړئ، او لا يعقل جماد يې په انساني روح سره فائض کړی دی، آيا اوس په هغه کې قدرت نه دی پاتې چې د خاورې ذرات او د مړي د لاش اجزاء راجمع کړي، او بيا ژوندون ورعنايت کړي؟.

﴿فَسَيُنغِضُونَ﴾ الآية ـ يعنې له استهزاء او تمسخر څخه خپل سرونه خوځوي، او وايي: هو صاحبه ! په وراسته وو هډوکو او د خاورو په ذرو کې به کله روح وپوکلی شي؟ او کله به مړي له خپلو هديرو (قبرونو) څخه راپورته کيږي د حساب او کتاب لپاره؟.

﴿قُلْ عَسَىٰ﴾ يعنې د قيامت پوره او برابر وقت الله تعالی هيچا ته نه دی ښوولی، هو ! د هغه د راتللو اميد په قريب مستقبل کې تاسې ته ظاهرولی شو، ګواکې د دنيا پاتې عُمر له هغه څخه لږ دی چې تر اوسه تېر شوی دی.

يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا ﴿۵۲﴾

په هغه ورځ کې چې وبولي (الله) تاسې حساب ته؛ نو قبول به کړئ (بلنه د ده په فعلي قبول سره) په دې حال کې چې ثنا ويونکي به يئ الله ته، او ګمان به کوئ (له ډېر هيبته) چې ځنډ (تأخير) نه دی کړی تاسې مګر لږ شانې (په دنيا يا قبر کې).

تفسير: يعنې څه مهال (وخت) چې د الله تعالی له طرفه غږ راپورته شي، نو په يوه زوروره بلنه او چغه سره به ټول مړي له ځمکې څخه راوځي، او د حشر په ميدان کې به سره راټولېږي، هيڅوک به د غاړې غړولو توان ونه لري، هر انسان به په دغه وخت کې مطيع او منقاد کيږي، او د الله حمد او ثناء به وايي، او په تلوار سره به حاضريږي، اګر که کفّارو ته له دغه اضطراري حمد او ثناء څخه کومه فايده نه ور رسيږي، په ځينو روايتو کې راغلي دي، چې د مؤمنينو پر ژبو به دغه الفاظ وي ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ﴾

﴿وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا﴾ ـ يعنې اوس تلوار کوئ، خو په دغه وخت کې به اندازه وکړئ، چې په دنيا کې مو څه زيات ځنډ نه دی کړی، دغه پنځوس يا سل کاله عمر به د هغو زړګونو کلونو په مقابل کې څه معلوميږي (موضح

القرآن)، ځينې وايي چې: د هولو او خوفونو له شدّته به د دنيا ژوندون دوی ته لږ ښکاري، يا له اولې نفخې ځخه تر دويمې نفخې پورې کله چې عذاب نه وي؛ نو دغه منځنی مدت به لږ ګڼي، او داسې به وايي: ﴿مَنۢ بَعَثَنَا مِن مَّرۡقَدِنَا﴾ (د يسين سورت (۴) رکوعه ۵۲ آيت).

وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ الشَّيۡطَانَ يَنزَغُ بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّ الشَّيۡطَانَ كَانَ لِلۡإِنسَٰنِ عَدُوّٗا مُّبِينٗا ۝٥٣

او ووايه (ای محمده !) بندګانو ځما ته چې وايي دې هغه خبرې چې هغه ډېرې غوره دي، ښکه چې شيطان دښمني اچوي په منځ د دوی کې، ښکه چې شيطان دی لپاره د انسان دښمن ښکاره (چې له سره په نېکۍ يې روادار نه دی).

رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِكُمۡۖ إِن يَشَأۡ يَرۡحَمۡكُمۡ أَوۡ إِن يَشَأۡ يُعَذِّبۡكُمۡۚ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ وَكِيلٗا ۝٥٤

رب ستاسې ښه عالم خبردار دی پر تاسې، که اراده وفرمايي (د رحمت ستاسې) نو رحمت به وکړي پر تاسې (په عطاء د ايمان او قبول د توبې) يا که اراده وفرمايي (د عذابولو ستاسې) نو عذاب به درکړي تاسې ته (په کفر او عصيان سره)، او نه يې لږلی مونږ ته پر دوی وکيل (ذمه وار).

وَرَبُّكَ أَعۡلَمُ بِمَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَلَقَدۡ فَضَّلۡنَا بَعۡضَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ عَلَىٰ بَعۡضٖۖ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا ۝٥٥

او رب ستا ښه عالم دی په هغه چې په اسمانونو کې دي او چې په ځمکه کې دي، او خامخا په تحقيق فضيلت ورکړی دی مونږ ځينو انبياوو ته پر ځينو (نورو)، او ورکړی وو مونږ داوود ته زبور.

تفسير: يعنې مونږ سم له خپل محيط علم سره له هر چا سره معامله کوو، هر يو سړی مو چې مناسب وګڼلو؛ د بني آدمانو له منځه هغه ته مو نبوّت ورکړ، شاه صاحب ليکي: «يعنې ځينې نبيان داسې وو چې د خپل امّت له زيات شرارت ځخه بالآخر په قهر شول، ستا حوصله مو له هغو ځخه زياته کړې ده، او پر ګردو مو فضيلت درکړی دی، لهذا ښايي ستاسې دغه ښه اخلاق له خپلې عالي مرتبې سره موافق وي»، او په خصوصيت سره د داود عليه السلام ذکر يې وکړ؛ ځکه چې هغه دغه دواړه شيان د پوهولو لپاره درلودل، جهاد هم او زبور هم، همغه دواړه خبرې دلته هم شته، قرآن او جهاد.

ځينې وايي چې: دلته يې د (زبور) ذکر کړی دی، د محمد صلى الله عليه وسلم کليه فضيلت او د محمديه امّت د فضل او شرف په لوري يې اشاره فرمايلې ده، ځکه چې د زبور مضامين د محمد صلى الله عليه وسلم پر خاتم الأنبياء توب او د ده د امّت پر أشرف الأممتوب مشتمل وو، ﴿وَلَقَدۡ كَتَبۡنَا فِي ٱلزَّبُورِ مِنۢ بَعۡدِ ٱلذِّكۡرِ أَنَّ ٱلۡأَرۡضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ ٱلصَّٰلِحُونَ﴾ (۱۷ جزء د الأنبياء سورت (۱۰۵) آيت (۷) رکوع)، يعنې د محمد صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلّم مرحومه امّت.

قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِهِۦ فَلَا يَمۡلِكُونَ كَشۡفَ ٱلضُّرِّ عَنكُمۡ وَلَا تَحۡوِيلًا ۝٥٦

ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې وبولئ تاسې هغه معبودان چې ګمان پرې کوئ د معبودانو بې له الله ځخه، نو نه لري دوی اختيار د لرې کولو د ضرر له تاسې ځخه، او نه د ګرځولو (د ضرر بل چا ته).

تفسير: يعنې الله تعالى خو هغه ذات دی، چې هر چا ته چې اراده وفرمايي؛ عذاب ورکوي، او په هر چا چې اراده وفرمايي؛ مهرباني پرې کوي، په هر چا چې هغومره اراده وفرمايي؛ هغومره پر نورو ورته فضيلت عطاء کوي، د هغه

قدرت کامل او علم یې محیط دی، اوس دې مشرکان هغو خپلو معبودانو ته نارې کړي، چې دوی یې خپل آلهه ګڼي، یا یې جوړ کړي وي، آیا په هغوی کې یو هم داسې مستقل اختیار لري، چې لږ څه تکلیف له تاسې څخه لرې کړی شي؟ یا یې لږ څه سپک کړي؟ یا یې له تاسې څخه لرې او په بل چا وغورځوي؟ نو بیا د داسې ضعیف او عاجز مخلوق معبود درول به څرنګه روا وي؟ !.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ ۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا ﴿٥٧﴾

دغه (معبودان) هغه څوک دي چې عبادت یې کوي کفار، لټوي دغه (معبودان د دوی پخپله) طرف د رب خپل ته وسیله (د نژدیوالي) چې کوم یو له دوی څخه ډېر نژدې دی الله ته، او امید لري د رحمت د دغه (الله)، او ویریږي دوی له عذابه د دغه (الله، نو څنګه یې بولئ خدایان)، بېشکه عذاب د رب ستا (وړ او لایق د دې) دی چې وېره ترې وکړی شي (تل ترتله).

تفسیر: په «بخاري شریف» کې روایت دی چې څه خلقو د جاهلیت په زمانه کې د پیریانو عبادت کولو، هغه پیریان خو مسلمانان شول، لیکن د هغوی عابدین همغسې پخپل جهالت کې قائم پاتې وو، نو د هغوی په حق کې دغه آیت نازل شو.

ځینې وایي: د پیریانو او د پرښتو او د مسیح او عُزیر او د نورو ګردو عابدین په دغه کې شامل دي، مطلب یې دا دی: هغه موجودات چې تاسې خپل معبودان او مستعانان ګڼئ او بولئ؛ هغوی پخپله خپل د رب د تقرّب په فکر کې ډېر زیات لویدلي دي، او لټوي یې، د هغوی زیار او کوښښ په همدې کې دی چې د الله تعالی د قربت په حاصلولو کې کوم یو وړاندې او د مخه کیږي؟، د هغوی له منځه هر یو چې زیات مقرّب وي، همغه زیات د الله تعالی د قرب د حاصلولو طالب دی، نو کله چې ستاسې د دغو مجوزه وو معبودانو حال د الله تعالی په مقابل کې داسې وي؛ نو تاسې له خپلو ځانونو سره د دغې خبرې فیصله وکړئ، چې د الله تعالی خوښي او د ده د رضاء د حصول تر کوم ځای پورې ضروري دی، او د غیر الله له عبادته نه الله تعالی خوښیږي، او نه هغه خوشالیږي چې تاسې یې عبادت کوئ، او خوښي یې غواړئ.

﴿وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ﴾ الآیة ـ یعنې سره له انتهایي قُرب د هغوی ګرد امیدونه محض د الله تعالی پر لطف او مهربانۍ دي، او دوی تل تر تله د الله تعالی له عذابه ویریږي او لرزیږي، او په دې ښه پوهیږي چې د هر قسم نفعې رسونه او د ضرر دفعه د همغه پاک الله په قبضه او اختیار کې ده.

وَإِن مِّن قَرْيَةٍ إِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوهَا قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ أَوْ مُعَذِّبُوهَا عَذَابًا شَدِيدًا ۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِي الْكِتَابِ مَسْطُورًا ﴿٥٨﴾

او نشته هیڅ کلی (یا ښار د ځمکې په مخ کې) مګر چې مونږ هلاک کوونکي (مړه کوونکي د اهل) د هغه یو پخوا له ورځې د قیامت یا په عذابوونکي یو (د اهل) د هغه په عذاب سخت سره، دی دغه حکم په کتاب (لوح محفوظ) کې لیکلی شوی.

تفسیر: د دغه آیت مطلب په څو ډوله اخیستی شي:

(الف): د دنیا هر یو کلی او ښار به د هغوی د اوسیدونکو د عظیم الشانو ګناهونو په بدل کې پخوا له قیامته په مستأصلو عذابونو بیخي تباه او خراب شي، که د دوی ګناه انتهایي درجې پورې نه وي رسېدلې، نو د دویمې درجې

د جرائمو په سزا کې د عمومي هلاکت څخه ښکته بل کوم سخت آفت پر هغه نازل شي، باقي داسې کلی او ښار به چېرې وي چې له ازله تر ابده پورې به يې ګناه نه وي کړي؟ او نه په کوم آفت کې به اخته شوی نه وي؟.

(ب): پخوا له قيامته ضروري ده چې هر يو کلي او ښار ته د هغه طبيعي موت ورولېږلی شي، او وران کړی شي، يا په کوم آفت او بلاء کې مبتلا شي، پر هغه طبيعي موت چې د تعذيب له رنګه تش وي د (هلاک) د لفظ اطلاق له قرآنه او حديث ثابت دی: ﴿حَتَّىٰٓ إِذَآ أَهۡلَكۡنَا قَرۡيَةً أَمَرۡنَا مُتۡرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا فَحَقَّ عَلَيۡهَا ٱلۡقَوۡلُ فَدَمَّرۡنَٰهَا تَدۡمِيرٗا﴾ (۲۴ جزء د المؤمن سورت (۳۴) آيت (۴) رکوع)، وفي الحديث: «كلّما هلك نبيٌّ جاء نبيّ آخر».

(ج): د کفّارو کلي او ښارونه به يا پخوا له قيامته پخپلو درنو ګناهونو په بدل نابود او لري کړل شي، يا به په کوم نه کوم بل وخت کې د سختو عذابونو خوند وڅکي.

په هر حال هره معنی چې تري واخيسته شي؛ له دغه آيت څخه مقصود تحذير دی، ګواکې هغه يې چې پخوا فرمايلی وو: ﴿إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحۡذُورٗا﴾ دلته د هغه د وقوع خبر ورکړی شوی دی.

وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرۡسِلَ بِٱلۡأٓيَٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلۡأَوَّلُونَۚ وَءَاتَيۡنَا ثَمُودَ ٱلنَّاقَةَ مُبۡصِرَةٗ فَظَلَمُواْ بِهَاۚ وَمَا نُرۡسِلُ بِٱلۡأٓيَٰتِ إِلَّا تَخۡوِيفٗا ﴿٥٩﴾

او نه دی منع کړی مونږ لره هيڅ څيز له دې نه چې وليږو هغه معجزې (چې دوی يې غواړي) مګر (دې خبرې) چې تکذيب کړی وو په هغو معجزو پخوانيو (کفّارو نو هلاک مو کړل)، او ورکړې مو وه (قوم) د ثمود ته اوښه ښکاره معجزه؛ نو ظلم وکړ (ثموديانو په ځانونو خپلو) په سبب د (تندې او زخمي کولو او اهلاک د) هغې، او نه ليږو مونږ (دغه فرمايشي) معجزې مګر لپاره د ويرولو.

تفسير: په حديث کې دي چې د مکې معظمې خلقو ځمونږ له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه معجزې وغوښتې، مثلاً دغه چې د (صفا) غر راته سره زر کړه ! يا دغه غرونه ځمونږ له شاوخوا څخه لرې کړه ! او د زراعت قابله سمه هواره ځمکه تري سازه کړه ! و غير ذالک، که داسې دې وکړه؛ نو مونږ ستا دغه خبرې منو، د دوی په ځواب کې دغه آيت نازل شو، يعنې د دغې فرمايشي معجزو ښوول الله تعالی ته له سره مشکل نه دي، ليکن پخوانيو خلقو ته سره له دې چې سم د هغو له غوښتنو سره د قدرت هسې معجزې ورښوولې وې، خو هغوی نه يوائې ايمان رانه وړ، بلکه په سرکښۍ کې يې لا پسې ترقي وکړه، آخر له سنت الله سره موافق د هغه نتيجه داسې شوه، چې هغوی بيخي سره مستأصل او فنا او په هلاک ورسېدل، اوس که ستاسې له احوالو هم ظاهريږي، چې تاسې بيا هم منونکي نه يئ، نو له سنت الله سره سم د دې نتيجه هم ښايي هم هغه استيصال او کلّي هلاک وي، نو کوم حال چې د پخوانيو شوی دی؛ همغه به ستاسې هم وشي، ليکن د الله تعالی حکمت د دې مقتضي نه دی چې تاسې هم د هغوی په شان هلاک کړي، نو ځکه د فرمايشي معجزو لېږل موقوف کړی شوي دي.

﴿وَءَاتَيۡنَا ثَمُودَ ٱلنَّاقَةَ﴾ الآية ـ د (ثمود) قوم له صالح عليه السلام څخه غوښتنه کړې وه چې د دغه غره له هغې غټې تيږې څخه يوه اوښه راوباسه !، پاک الله هغه اوښه له هغې پرښې (ګټې) څخه ورويسته، مګر د دې په ځای چې هغوی د داسې فرمايشي معجزې له لېدلو څخه خپلې سترګې غړولې وی، او قلبي بصيرت يې حاصل کړی وی، بالعکس د ظلم او عداوت لپاره يې ملاوې وترلې، لکه چې هغه اوښه يې ووژله، او د صالح عليه السلام د شهادت په فکر او توطيه (غور) کې هم سره سم بوخت (مشغول) شو، بالآخر د هغوی عاقبت او انجام څرنګه چې واقع شو؛ هغه ګردو ته ښکاره او معلوم دی، او د هغه د بيانولو ضرورت نه دی پاتې، دغه يې د ﴿أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلۡأَوَّلُونَۚ﴾ يوه نمونه ورويړاندې کړه.

﴿وَمَا نُرْسِلُ بِالْآيَاتِ إِلَّا تَخْوِيفًا﴾ الآية ـ يعني هدايت د معجزاتو پر ليدلو موقوف نه دى، د فوق العاده وو معجزاتو د لېږلو څخه دغه مقصود وي؛ چې د قاهره قدرت له ليدلو څخه خلق د الله تعالى څخه وويريږي، او له وېرې د پاک الله په طرف متمائل شي، که دغه مقصد حاصل نشي، او في الحال د هغه قوم تباه کول هم مصلحت نه وي، نو د تشو فرمايشونو د پوره کولو څخه څه فائده لاس ته راځي؟ باقي د عمومي تخويف او انذار لپاره د هغو آيتونو او معجزاتو لېږل چې مصلحت دى؛ هغه برابر لېږلې شوي دي.

وَإِذْ قُلْنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِالنَّاسِ ۗ وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْيَا الَّتِي أَرَيْنَاكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُونَةَ فِي الْقُرْآنِ ۚ وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا طُغْيَانًا كَبِيرًا ﴿٦٠﴾

او (ياد کړه) هغه وخت چې وويل مونږ تاته چې بېشکه رب ستا احاطه کړېده پر مخلوقاتو (په علم او قدرت خپل سره)، او نه ده ګرځولې مونږ (نظاره ښوونه) هغه چې ښوولې موږ وه تا ته (د کائناتو په نسبت په سترګو سره په شپه د معراج کې) مګر ازمويښه لپاره د خلقو د (مکې)، او (همدارنګه فتنه ګرځولې ده مونږ) هغه ونه چې پرې لعنت کړى شوى دى په قرآن کې، او ويروو مونږ دوى؛ نو نه زياتوي دوى ته (دغه وېرول) مګر طغيان سرکښي لويه.

تفسير: ښايي چې د رسول الله مبارک په خيال کې دغې خبرې خطور کړى وي، چې د دغو فرمايشي معجزاتو د نه ښودلو څخه به کفّارو ته د خندا او طعن موقع په لاس ورشي، او داسې به وايي: که دى په رښتيا سره نبي وى؛ نو ځمونږ له غوښتنې سره به يې سم معجزې راښوولې وى، نو ځکه يې مطمئن کړ، چې ستا د رب علم او قدرت ګرد خلق احاطه او راګېر کړي دي، او هيڅوک د ده له علم څخه د باندې وتلى نشي، او نه د ده د قدرت له ما تحت بل چېرې خوځېدى شي، او ګرد د ده په واک او قبضه کې دي، تاسې د دوى دغو طعنو او تشنيعو ته له سره غوږ مه ږدئ او مه التفات ورته کوئ ! دوى ستاسې يو شى نشي خرابولى، تاسې په خپل کار کې مشغول او لګيا اوسئ ! او د دوى فيصلې بيخي مونږ ته راپرېږدئ، مونږ ته ډېر ښه معلوم دي، چې دوى سره د فرمايشي معجزو د ليدلو هم ستاسې د خبرو منونکي نه دي، او وروسته له هغه ځمونږ له سزا او پوښتنې څخه خلاصيدونکي يا تري چېرې تښتېدونکي نه دي، او په دې هم علم لرو، چې له دغو خلقو څخه کوم يو اوس سمدلاسه د تباه کېدلو وړ (لايق) دى؟ او د کومو خلقو باقي پرېښودل مصلحت دى؟ لهذا تاسې خپل ځان په دغو جګړو او جنجالونو کې له سره مه اخته کوئ ! دغه ګرد ځمونږ تر محاصرې لاندې دي، بالآخره دوى به مسلمانيږي.

﴿وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْيَا الَّتِي أَرَيْنَاكَ﴾ رؤيا يعنې نظاره يا ښوونه، او له هغې څخه مراد د معراج د شپې هغه نندارې دي؛ چې د هغو په بيان سره د خلقو ازمويښه وشوه، صادقانو د هغو له اوربدلو څخه پرې باور وکړ، او ويې منل، او بالعکس مکذّبينو او ناقصانو د هغو تکذيب وکړ.

﴿وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُونَةَ فِي الْقُرْآنِ﴾ يعنې د (زقوم ونه) چې په قرآن کې ويلې شوې ده، چې هغه به د دوزخيانو خوراک وي، د ايمان لرونکو د يقين موجب شوه او د منکرانو د شک او ريب سبب وګرځېده، او ويې ويل چې: د دوزخ په اور کې به ونه څرنګه زرغونيږي؟ دغه هم يوه ازمويښه وه، له دغو دواړو مثالونو څخه اندازه وکړئ چې د خوارقو په تصديق کې د طبائعو احوال څرنګه دي.

﴿وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا طُغْيَانًا كَبِيرًا﴾ يعنې هغه زړونه چې د الله تعالى له وېرې څخه تش وي، له ويرولو څخه هم نه ويريږي، بلکه لا زيات شرارتونو کې پرمختګ او ترقي کوي، له هغوى څخه د فرمايشي معجزاتو په ليدلو سره د حق د قبلولو هيله او اميد لرل چتې (بېکاره) او بې موقعه دى.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِـَٔادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ ۖ قَالَ ءَأَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِينًا ﴿٦١﴾

او (یاد کړه) هغه وخت چې وویل مونږ پرښتو ته چې سجده وکړئ تاسې آدم ته (تعظیماً)؛ نو سجده وکړه (ټولو) مګر یواځې ابلیس (سجده ونه کړه)، وویل (ابلیس په ځواب د الله کې): آیا سجده وکړم هغه چا ته چې پیدا کړی دی تا له خټې.

تفسیر: دغه قصه په څو ځایونو کې تېره شوې ده، دلته په هغې باندې تنبیه ورکول مقصود دي، چې د الله تعالی د حکم بې له وړاندې وروسته کولو څخه منل (د پرښتو له طرفه)، او په هغه کې شبهې پیدا کول د شیطان کار دی، دغه کفّار هم د همغه شیطان د اعمالو متابعت کوي، چې په خبرو کې یې کاږه بحثونه کول، مګر په یاد یې ولرئ چې د دوی عاقبت او انجام هم همغسې کېدونکی دی چې د دوی د امام او مشر لعین ابلیس انجام هم همغسې کېدونکی دی.

قَالَ أَرَءَيْتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِى كَرَّمْتَ عَلَىَّ لَئِنْ أَخَّرْتَنِ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٦٢﴾

وویل (ابلیس) خبر راکړه ماته دا (سړی) چې بهتر کړی دی دی په ما باندې؛ قسم دی که وروستی دې کړم تر ورځې د قیامت پورې نو خامخا به زه بېخ وباسم هرومرو د اولادې د ده مګر لږ (د دوی چې ستا په عصمت او حمایت کې دي).

تفسیر: یعنې لږ څه به یې پرېږدم، او باقي ګرد به یې مسخر او د خپل ځان تابع وګرځوم، لکه چې پر آس د ملونې (ځلونې) او قیزې په وسیله سړی لاس مومي، نو بیا دغه انسانان چې ځما په مقابل کې دومره ضعیف او کمزوري دي؛ نو تا دوی ته پر ما ولې لویي او فضیلت بخښلی دی؟ آیا داسې کول هم جائز دي؟ حال دا چې زه غوره یم له ده، ځکه چې آدم له خاورې پیدا دی او زه له اوره.

قَالَ ٱذْهَبْ فَمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُورًا ﴿٦٣﴾

(نو) وفرمایل (الله) چې ځه نو هر چا چې متابعت وکړ ستا له دوی نه؛ نو بېشکه دوزخ جزاء ستاسې ده جزاء پوره.

وَٱسْتَفْزِزْ مَنِ ٱسْتَطَعْتَ مِنْهُم بِصَوْتِكَ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِم بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِى ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَوْلَٰدِ وَعِدْهُمْ ۚ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿٦٤﴾

او وخوځوه (راګبر کړه) هغه څوک چې طاقت دې رسېږي پر هغه باندې له دوی نه په غږ (بلنه) خپله سره (فساد ته)، او راکاږه پر دوی سواره خپل او پیاده خپل، او شریک شه له دوی سره په مالونو کې او په اولادونو کې، او وعده کوه له دوی سره (د دروغو)، او نه کوي وعده له دوی سره شیطان مګر (په) مکر باطل (او فریب سره چې خطا ورته ثواب ښکاروي).

تفسیر: یعنې هغه غږ چې د الله تعالی د عصیان په لوري خلقو ته دعوت او بلنه کوي، له دې نه په زړونو کې وسوسې غورځول مراد دي، مزامیر (ساز او آواز) هم په دې کې داخلېدی شي.

د پیاده او سورو له راکاږلو څخه دا مطلب دی چې خپل ګرد زور او قوّت ولګوه، او په پوره قدرت او طاقت سره خپلو لښکرو ته د پرمختګ (وړاندې تلو) امر ورکړه، چې د الله تعالی په معصیت کې ګرد جنګیدونکي شیطانان دي، که سواره دي یا پلي (پیاده)، جني وي، که انسي، پخپلو شیطاني چارو بوخت او لګیا شئ !؟.

﴿وَشَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ﴾ يعني په زړه کې دې ارمان مه ساته، او دوی ته پر هر شانې چې زړه دې غواړي ترغیب ورکړه، چې په خپلو مالونو او اولادونو کې هم تا ته برخې درکړي، يعني دغه شيان په ناجائزو طريقو سره حاصل کړئ، او په ناجائزو کې يې ولګوئ.

﴿وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا﴾ يعني چې شيطان انسان ته زرغونه باغونه ورښيي، د ده په مکر او فرېب او پلمو (تدبيرونو) کې راتلل د احمقانو کار دی، شيطان ځکه مواعيد پر دغابازۍ او فرېب مبتني دي، لکه چې په قيامت کې دی پخپله به هم اقرار کوي: ﴿وَوَعَدْتُكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ﴾ (د ابراهيم سورت (۴) رکوع، (۲۲) آيت، (۱۳) جزء).

إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ ۚ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ وَكِيلًا ﴿٦٥﴾

بېشکه (خاص) بندګان ځما چې دي نشته تاته (ای شيطانه) پر دوی هيڅ قسم غلبه حکومت قدرت، او کافي دی رب ستا (ای شيطانه) وکيل ساتونکی (د خالصو بندګانو خپلو له شره ستا).

تفسير: يعني هر څوک چې پر الله تعالی اعتماد او توکل وکړي، هغه د ده کار جوړوي، او د شيطان له لومو او چمبو (دامونو) څخه يې راوباسي.

رَبُّكُمُ الَّذِي يُزْجِي لَكُمُ الْفُلْكَ فِي الْبَحْرِ لِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ ۚ إِنَّهُ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٦٦﴾

رب ستاسې هغه (قادر مطلق ذات) دی چې چلوي تاسې ته بېړۍ (جهازونه) په بحر کې لپاره د دې چې ولټوئ (رزق او روزي) له فضله د ده څخه، بېشکه دغه (الله) دی پر تاسې ډېر مهربان.

تفسير: دغه يې د الله تعالی د کار جوړولو يوه نمونه راوړاندې کړه، چې په هغه کې يو مشرک هم پر داسې اقرار کولو مجبور کيږي؛ چې له ماسوا الله څخه بل هيڅوک د ګردو مهمّاتو جوړوونکی او وکيل نشي کېدی.

علی الأکثر په لوی قرآن کې روزي يې په فضل سره تعبير فرمايلې ده، د فضل معنی زيادت دی، ځکه چې د مسلمانانو دغه بندګي او عبادت خو د آخرت لپاره دی، او دنيوي فوائد دوی ته محض د امتحان او ازمېښت لپاره ورکول کيږي.

وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَن تَدْعُونَ إِلَّا إِيَّاهُ ۖ فَلَمَّا نَجَّاكُمْ إِلَى الْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ ۚ وَكَانَ الْإِنسَانُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾

او کله چې ورسيږي تاسې ته سختي په بحر کې (او ويرېږئ له غرقه)؛ ورک شي (له فکره) هغه کسان چې يې بلئ (او عبادت يې کوئ) مګر يواځې دغه (الله) ته (زاری او عبادت کوئ)، نو کله چې وموژغوري (بچ مو کړي) تاسې (له غرقه او ومو رسوي) وچې ته؛ نو بيا څنګ کوئ (له توحيده)، او دی انسان لوی ناشکره (په نعمتونو د رب خپل).

تفسير: يعني همدا چې انسان له مصيبت څخه نجات وموند؛ نو خپل حقيقي محسن بيخي له ياده وباسي، او هيروي يې، څو دقيقي (منټه) وړاندې د سيند په چپو او د بحر په امواجو کې پرله پسې د الله تعالی په يادونه کې وو، همدغه چې د ګودر پر وچه باندې يې پښه ولګېده؛ نو بيا بيخي بې فکره کيږي، او هغه ګردې پېښې يې هېرې شي، نو له دې نه لويه ناشکري او احسان هېرول به نور څه وي؟.

اَفَاَمِنْتُمْ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ الْبَرِّ اَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوْا لَكُمْ وَكِيْلًا ﴿۶۸﴾

نو آیا په امن (مطمئن او بې ویرې) یئ تاسې له دې نه چې ډوب کړي تاسې په یو طرف د ځمکې وچې کې؟ یا ولیږي پر تاسې سخت باد وروونکی د وړو کانړو؟ بیا ونه مومئ تاسې د خپل ځان لپاره کوم ساتونکی.

تفسیر: یعنې د بحر په څنډو (غاړو) په وچه کې مو ډوب کړي، مثلا چې زلزله راشي او په ځمکه کې چاودي پیدا شي، او د قارون په شان په ځمکه کې خښ کړی شئ ! خلاصه یې دا چې ستاسې اهلاک د سیند په موجونو او چپو پورې موقوف نه دی، هر چېرې چې الله تعالی اراده وفرمایي؛ هلته مو وژني.

اَمْ اَمِنْتُمْ اَنْ يُّعِيْدَكُمْ فِيْهِ تَارَةً اُخْرٰى فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ الرِّيْحِ فَيُغْرِقَكُمْ بِمَا كَفَرْتُمْ ثُمَّ لَا تَجِدُوْا لَكُمْ عَلَيْنَا بِهٖ تَبِيْعًا ﴿۶۹﴾

آیا په امان کې یئ تاسې (بلکه مأمون مه اوسئ) له دې نه چې بیا رانه باسي تاسې (الله) په دې (بحر) کې بیا دویم ځلي، نو ناڅاپه راولیږي پر تاسې ماتوونکی (د هر څیز) سخت باد، نو غرق به کړي تاسې په سبب د کفر (شرک) ستاسې، پس د هغه بیا به نه مومئ د خپلو ځانونو لپاره پر مونږ په سبب د هغه غرق پوښتېدونکی (راپسې ګرځېدونکی).

تفسیر: یعنې له الله تعالی څخه څوک پوښتنه کولی شي؟ یا د چا له واکه او توانه دغه کار پوره دی، چې د پاک الله تعقیب و کړي؟.

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ وَحَمَلْنٰهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيْلًا ﴿۷۰﴾

او خامخا په تحقیق ډېر عزت ورکړی دی مونږ اولادې د آدم ته، او سواره کړي مو دي دوی پر مرکوباتو باندې په بر (وچه) کې، او په بحر (دریاب) کې، او رزق روزي مو ورکړې ده دوی ته له طیّباتو پاکیزه وو شیانو، او غوره کړي مو دي دوی پر ډېرو له هغه چا چې پیدا کړي مو دي په غوره کولو (ډېرو) سره.

تفسیر: یعنې انسان ته یې د صورت حسن، نطق، تدبیر، عقل، حواس او نور ور عنایت فرمایلی دي، چې د هغه په وسیله په خپل دنیوي او اخروي مضارو او منافعو باندې پوهیږي، او د نبو او بدو په منځ کې سره تفریق کولی شي، په هر طرف کې یې د پرمختګ او ترقي لارې ورته پرانستلي دي، نور مخلوقات تر خپل واک لاندې راوستلی شي، او خپلې چارې ترې اخیستی شي، په وچه کې د حیواناتو پر شا او پر نورو راز راز نواقلو او وسائلو سفر کوي، په سیندونو او بحرونو کې پر بېړیو او جهازونو او نورو نقلیه وو وسائلو سره بې تکلّفه تګ راتګ مسافرت کولی شي، له قسماقسم نبو مأکولاتو، مشروباتو، ملبوساتو، کورونو او تعمیراتو او د دنیوي نورو وسائلو او وسائطو او د هوسایی (آرام) او هستوګنې د هر راز لوازمو او لواحقو څخه منتفع او ګټور کیږي، د همدغو انسانانو لوی پلار آدم علیه السلام یې د پرښتو «مسجود له» وګرځاوه، او د دوی آخري رسول الله محمد صلی الله علیه وسلم یې د ګردو مخلوقاتو سردار غوره کړ.

يَوْمَ نَدْعُوا كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ ۖ فَمَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ فَأُولَٰئِكَ يَقْرَءُونَ كِتَابَهُمْ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧١﴾

او (ياد کړه) هغه ورځ چې وبه بولو (په نامه سره) هر امّت سره د انبياوو او مشرانو د دوی، نو هر هغه چا ته چې ورکړه شوه اعمالنامه د ده په ښي لاس د ده کې نو دغه (أصحاب اليمين) لولي به اعمالنامې خپلې (په ډېرې خوشالۍ سره) او ظلم به ونه کړی شي (پر دوی) په اندازه د يو نري تار (چې په منځ د زړي د خرماوو کې وي).

تفسير: د قيامت په ورځ به هره فرقه سره له هغه څيزه حاضريږي چې ده به د هغه پيروي او متابعت کولو، مثلا مؤمنين له نبي يا له کتاب يا له ديني مشره سره، او کفّار له مذهبي مشر، او لوی شيطان او باطلو معبودانو سره چې فرمايلي يې دي: ﴿وَجَعَلْنَٰهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَٰمَةِ لَا يُنصَرُونَ﴾ (۲۰ جزء د القصص سورت (۴۱) آيت (۴) رکوع).

او په حديث کې راغلي دي: «تتبع كل أمة ما كانت تعبد»، په دغه وخت کې د ځکردو انسانانو أعمالنامې به هغوی ته رسيږي، د ځينو اعمالنامې به د مخې له طرفه په ښي لاس کې او د ځينو به د شا له طرفه په کين لاس کې وررسيږي، ځواکې دغه يو حسّي علامت دی د مقبوليت او مردوديت لپاره.

﴿أَصْحَٰبَ الْيَمِينِ﴾ يعنې په ښي لاس کې د عملنامې اخيستونکي، دوی به هغه کسان وي چې په دنيا کې يې حق قبول کړی دی، او خپل فطري شرافت او انساني کرامت يې باقي ساتلی وي، همغسې چې هغوی په دنيا کې سره له پوهېدلو او سنجولو (غور کولو) کار کړی وي، او خپل وړاندې وروسته يې ليدلي وي، په آخرت کې هم همغه احتياط د دوی په کار ورځې، په دغه ورځ کې به دوی له حده زيات خوښ او خوشاله وي، او په ډېر سرور او انبساط سره به خپلې اعمالنامې لولي، او نورو ته به هم وايي: ﴿هَآؤُمُ اقْرَءُوا كِتَٰبِيَهْ﴾ (۲۹ جزء د الحاقه سورت (۱۹) آيت (۱) رکوع) «راشئ ځما دغه کتاب ولولئ».

باقي نور خلق يعنې ﴿أَصْحَٰبُ الشِّمَالِ﴾ د هغوی احوال په وروستني آيت کې بيان فرمايلي شوي دي، ځينې د (امام) له لفظه خپله اعمالنامه مرادوي، ځکه چې هلته به خلق د همدغې أعمالنامې پسې ورځې (لنډه يې دا چې په آخرت کې به له هر چا سره همغه معامله وکړه شي، چې وړ او مستحق يې وي، او ظلم به ونه کړی شي پر دوی باندې په اندازه د هغه نري تار چې په منځ د زړيو د خرماوو کې وي.

وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِ أَعْمَىٰ فَهُوَ فِي الْآخِرَةِ أَعْمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٧٢﴾

او هر څوک چې وي په دغه (دنيا) کې ړوند (له پېژندلو د حقه) نو هغه به په آخرت کې هم ړوند وي (له لارې د خلاصي) او ډېر لرې به وي (د نجات او بري) له لارې (د ړندو په شان).

تفسير: يعنې دلته د هدايت د لارې له ليدلو څخه ړانده پاتې وي، او هلته په آخرت کې د جنت د لارې له ليدلو څخه هم ړانده او ډېر لرې تر پاتې کيږي (موضح القرآن)، دغه د «أصحاب اليمين» په مقابل د «أصحاب الشمال» ذکر دی، ځينو د ﴿وَأَضَلُّ سَبِيلًا﴾ مطلب داسې اخيستی دی، چې په دنيا کې د مافات تلافي ممکنه ده، ولې په آخرت کې له هغه څخه هم ډېر لرې ولوبدل، ځکه چې په قيامت کې د تدارک او تلافي هيڅ امکان نشته.

وَإِن كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ ۖ وَإِذًا لَّاتَّخَذُوكَ خَلِيلًا ﴿٧٣﴾

او په تحقيق شان دا دی چې نژدې وو (کفّار) چې واړوي تا له هغه (قرآن) څخه چې وحي کړې ده مونږ تاته لپاره د دې چې وترې ته پر مونږ بې له دې قرآنه بل څه، او (که متابعت دې کړی وی تا د دوی؛ نو) په دغه وخت کې به خامخا نيولی به يې وې دوی ته دوست.

تفسير: له دغو باطني ړندو څخه ځينې شريران خو هغه کسان دي، چې پخپله پر سمه لاره نه راځي، بلکه نور غټې غټې سترګې لرونکي پوهان او هوښياران هم غواړي چې وغولوي او تېر باسي، لکه چې د مکې معظّمې د کفارو دغې بې حيايي او جسارت ته وګورئ چې غواړي تاسې هم دغه طرف ته متمائل کړي، چې د الله تعالی هغه وحي او احکام چې پر تاسې يې ليږلي دي، د هغو يوه برخه تاسې د دوی له خاطره (معاذ الله) پرېږدئ يا يې بدل کړئ، کله د حکومت، کله د دولت، کله د ښکلیو پيمخو جونو (جينکو) تطميع او تشويق به يې دوی ته وروړاندې کولو، کله به يې ويل چې: مونږ به له څرمې (سېلمې) ستا تابع کيږو؛ که چېرې له قرآن څخه تش همغه برخه لرې کړئ چې د شرک او بت پرستی په نسبت تردید کوي، که په فرض محال (العياذ بالله) تاسې داسې وکړئ؛ نو خامخا هغوی به تاسې خپل ټينګ دوست په شان منلي وئ، ليکن ستاسې جواب د هغوی په مقابل کې داسې وو: «که تاسې لمر او سپوږمۍ له اسمانه راښکته کړئ، او يوه يې ځما په يوه موټي کې بل يې ځما په بل موټي کې راکړئ، خو بيا هم محمد صلی الله عليه وسلم د هغه څيز پرېښودونکی نه دی چې پاک الله د هغه لپاره مبعوث کړی دی، څو يې تر پايه ونه رسوي، يا خپل سر پرې جار (قربان) نه کړي».

وَلَوْلَآ اَنْ ثَبَّتْنٰكَ لَقَدْ كِدْتَّ تَرْكَنُ اِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيْلًا ﴿۷۴﴾ اِذًا لَّاَذَقْنٰكَ ضِعْفَ الْحَيٰوةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيْرًا ﴿۷۵﴾

او که نه وی مونږ ټينګ کړی ته (په حق باندې د عصمت)؛ نو خامخا په تحقيق نژدې شوی وې ته چې ميلان دې کړی وې دوی ته څه لږ. (او که لږ څه ميل دې کړی وی؛) نو په دغه وخت کې به خامخا په تحقيق څکلی به مو وی تا ته دوچند عذاب د ژوندون (په دنيا کې) او دوچند عذاب د مړ ک (په آخرت کې)، بيا به نه وه موندلې تا د ځان لپاره پر مونږ باندې مدد کوونکی (په دفع د عذاب کې).

تفسير: ﴿تَرْكَنُ﴾ له «رکون» څخه دی، چې ادنی راښکته کېدلو او د قلب ډېر خفيف ميلان ته وايي، له دې سره د ﴿شَيْـًٔا قَلِيْلًا﴾ قيد يې زيات کړ، نو له ادنَی ځنې ډېر ادنی مرتبه ترې مراده شوه، بيا ﴿لَقَدْ كِدْتَّ﴾ يې وفرمايه، او د هغه وقوع يې لا لږ کړ، يعنې که دغه خبره نه وی چې ته معصوم نبي يې، چې ستا د عصمت ساتنه الله تعالی پخپل خصوصي فضل سره کوي؛ نو د دغو چالاکو شريرانو د فريب بازۍ څخه ډېر لږ څه هغه طرف ته به ستا قلبي ميلان ورنژدې کېده، ليکن د انبياوو عليهم السلام د عصمت تکفّل الله تعالی فرمايلی دی، نو ځکه دغومره يو خفيف تمايل هم په تا کې ونه موندل شو.

له دې نه ظاهريږي چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په وجود کې د فطري تقوی قوّت ډېر مضبوط او کلک او بيخي له تزلزل څخه عاري وو، (که قاري دغه پاس آيات په دقّت سره بيا ولولي؛ او په کې ښه دقيق او ځير شي؛) نو په دغو کې هم د رسول کريم صلی الله عليه وسلم د فضل او شرف اظهار په نهايت لطيف بيان سره مقصود دی.

مقربينو ته همغسې چې انعامات ډېر دي، ډېر مصائب او بليّات هم د دوی په برخه کې راځي، او د دوی پر خورا ډېر لږ وړوکي غلطی يا قصور باندې هم سخت عتاب واردېږي، لکه چې ځمونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم مطهّراتو ازواجو ته فرمايلي دي: ﴿يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُّضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ﴾ (۲۱ جزء د الأحزاب سورت (۳۰) آيت (۴) رکوع).

نو دغه يې راوښود چې د دوی مرتبه کومه معمولي مرتبه نه ده، که په فرض محال سره له ادنی څخه ادنی کومه غلطي وي؛ نو په دنيا کې او په برزخ کې او په آخرت کې دوچنده عذاب ورځکولی کيږي، هر مؤمن لره ښايي چې د دغو آيتونو د تلاوت په وخت کې په ګونډو او ځنګنو شي، او په انتهايي خوف او خشيت سره د الله تعالی د جلال او

جبروت په شان کې غور وکړي ! او همغه دعا دې وکړي چې پخپله به رسول الله مبارک کوله: «اللّهمّ لا تكلني إلى نفسي طرفة عين» «ای إلها ! د سترګې د یوه رپولو په اندازه مې هم خپل نفس ته مه خوشې کوه !»، یعنې تل مې همدغه ته حفاظت او ساتنه وکړه ! او پخپل کفالت کې مې وساته !.

وَإِنْ كَادُوا لَيَسْتَفِزُّونَكَ مِنَ الْأَرْضِ لِيُخْرِجُوكَ مِنْهَا وَإِذًا لَا يَلْبَثُونَ خِلَافَكَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿۷۶﴾

او بېشکه شان دا دی چې نژدې وو (دغه مکې والا او غوښتل یې) چې خامخا وخوځوي تا له ځمکې (د مکې یا د مدینې) لپاره د دې چې وباسي تا له دغې (ځمکې په مکر او فرېب سره) او په دغه وخت کې (که ته یې ایستلی وې)، نو درنګ به نه وی کړی وروسته له (ایستلو) د تا نه مګر لږ (مدّت).

تفسیر: یعنې غواړي چې تاسې په تنګ کړي او ومو ویروي، او له معظّمې مکې څخه مو د باندې وباسي، لیکن دوی دې دغه خبره هم په یاد ولري، که هغوی داسې وکړه؛ نو دوی به پخپله هم تر ډېرو ورځو پورې دلته نشي اوسېدلی، لکه چې همداسې هم وشو، چې د دوی همدغه ظلم، ستم او تیري د دې خبرې سبب شوه چې محمد صلی الله علیه وسلم له معظّمې مکې نه منوّرې مدینې ته هجرت وفرمایه، خو تر دې یو نیم کال وروسته د مکیانو لوی سرداران او مشران له خپلو کورونو څخه ووتل، او د بدر په میدان کې په نهایت ذلت او خواری سره ووژل شول، او له هغه پنځه شپږ کاله وروسته پر معظّمه مکه باندې هم د اسلام قبضه وشوه، د کفّارو هغه حکومت او شوکت تباه او فنا شو، او بالآخر په ډېر لږ مدّت کې نه یوائې په معظّمه مکه کې بلکه کې په ټوله «جزیرة العرب» کې د محمد صلی الله علیه وسلم یو تن مخالف هم پاتې نشو.

سُنَّةَ مَنْ قَدْ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنْ رُسُلِنَا وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيلًا ﴿۷۷﴾

(دغه وړاندې) طریقه ځمونږ (په مثل د هغې طریقې ځمونږ ده) په هغه چا کې چې پر تحقیق لیږلي وو مونږ پخوا له تا نه له رسولانو ځمونږ، او نه به مومې ته طریقه (عادت) ځمونږ ته هیڅ تغیر تبدیل.

تفسیر: یعنې ځمونږ هم دغه دستور له قدیمه تر اوسه جاري دی، کله چې په کوم کلي یا ښار کې د الله تعالی نبي ته یې هستوګنه نه ده ورکړې؛ نو پخپله د همغه ځای اوسیدونکي نه دي پاتې شوي.

أَقِمِ الصَّلَاةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَىٰ غَسَقِ اللَّيْلِ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ ۖ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا ﴿۷۸﴾

قائموه (سم ودروه له ټولو حقوقو سره) لمونځ وروسته له زواله د لمر، تر تیارې د شپې پورې (یعنې ماسپښین، مازدیګر، ماښام، او ماخوستن لمونځونه اداء کړه !)، او له قرائت د فجر (یعنې د سهار لمونځ اداء کړه)، بېشکه چې قرآن لوستل (لمونځ کول) د فجر دی حاضر شوی (یعنې ورحاضریږي ورته ملائک د شپې او د ورځې).

تفسیر: یعنې د دوی د دغو حیلو او پلمو (تدبیرونو) هیڅ پروا مه کوئ، او له سره خپل فکر او چرت پرې مه خرابوئ، تاسې تل خپل رب او مالک ته متوجه اوسئ ! خپل لمونځونه سم صفا اداء کوئ ! ځکه چې تعلّق مع الله داسې یو څیز دی چې انسان ته پر ګردو (ټولو) مشکلاتو او نوائبو (تکالیف) بری او غلبه ورکوي: ﴿وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ﴾ (اول جزء د البقرې سورت (۵) رکوع (۴۵) آیت)، ځمونږ د دې تفسیر په ﴿لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَىٰ غَسَقِ اللَّيْلِ﴾ کې د ماسپښین، مازدیګر، ماښام، ماسختن څلور واړه لمونځونه راغله.

﴿وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ﴾ الآیة ـ ښایي (د قرآن الفجر) له تعبیره دې طرف ته اشاره وي، چې په فجر کې د قرائت تطویل مطلوب دی، په حدیث کې راغلي دي چې: «د فجر او عصر په وخت کې د شپې او د ورځې د پرښتو په منځ کې سره مبادله واقع کیږي»، لهذا په دغو دوو وختونو کې د ورځې او د شپې د پرښتو اجتماع وي، نو ځمونږ قرائت او لمونځ د دوی په حضور کې د زیار (کوښښ) برکت او ښېګڼې موجب دی، په دغه وخت کې پاس تلونکې پرښتې الله تعالی ته شهادت ورکوي، چې مونږ د خپل تګ راتګ په وخت کې ستا بندګان په لمانځه کې مصروف او مشغول ولیدل، علاوه پر دې د سحر په وخت کې طبعاً د سړي زړه هم حاضر او مجتمع وي.

وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ ۖ عَسٰٓى اَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا ﴿۷۹﴾

او په (یوه ټوټه د) شپې کې خوب پرېږده او ویښ اوسه (په لوستلو د قرآن په لمانځه کې) دا زیاتي (نفلي) عبادت دی خاص تاته، ښایي چې وبه دروي تا رب ستا په هغه مقام محمود (ستایلي شوي ځای د شفاعت) کې.

تفسیر: شاه صاحب لیکي: «یعنې له خوبه راویښ شه ! (په تهجّد) کې قرآن ولوله، دغه حکم مو له ځکردو ځخه زیات پر تا کړی دی، چې تا ته (له ځکردو ځخه) لویه مرتبه درکوو، یعنې تهجّد مو خاص پر تا واجب کړی دی، او پر امت مستحبّ دی.

(مقام محمود) د عُظمی شفاعت مقام دی، کله چې بل هیڅ یو نبي به هیڅ یو شی نشي ویلی، نو ځمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم به الله تعالی ته سجده وکړي او په لوړو صفاتو به یې وستایي او بیا به د خلکو لپاره شفاعت وکړي، چې دقیامت د میدان حشر له عذابه یې خلاص کړي، او د خلکو تر منځ فیصله وکړي، نو الله تعالی به دده شفاعت قبول کړي او په لمړنو او وروستنو خلکو او انبیاؤ به د هغه سیادت او افضلیت عملاً ثابت شي.

تنبیه: د «مقام محمود» دغه تفسیر په صحیحه وو احادیثو کې راغلی دی، او په (بخاري شریف) او په (مسلم شریف) او د احادیثو په نورو مقدّسو کتابونو کې د (کُبری شفاعت) نهایت مفصّل بیان شته.

وَقُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِيْ مُدْخَلَ صِدْقٍ وَّاَخْرِجْنِيْ مُخْرَجَ صِدْقٍ وَّاجْعَلْ لِّيْ مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطٰنًا نَّصِيْرًا ﴿۸۰﴾

او ووایه (ای محمده !) ای ربه ځما ! ننه باسه ما په ننویستلو رښتیا (ښو سره مدیني ته)، او وباسه ما په ویستلو رښتیا (ښو سره له مکې نه)، او وګرځوه ما لره له جانبه خپله یو قوت مدد کوونکی (له اسلامه سره پر کفر باندې).

تفسیر: یعنې چېرې چې زه رسولی کېږم (مثلاً مدیني منورې ته)؛ په نهایت پت، عزت، حرمت او شوکت سره مې ورسوه، چې د حق کلمه عُلیا وي ! او له هر ځای ځخه چې ایستل یعنې بیلتون دی (مثلاً له مکې ځخه)؛ نو هغه دې هم په پت، غیرت، عزّت، حُرمت، او شوکت سره وي، چې دښمنان ذلیل او خوار، او دوستان خوښ او فرحان شي !، او په هر صورت د صداقت فتح او بری وي، او کذب سر ځوړند او ښکته وي !، او داسې غلبه او تسلط راعنایت کړه چې له هغه سره ستا مدد او نصرت هم وي، ځو د حق کلمه علیا، او معاندین ذلیل او ښکته وي ! په دنیا کې هر یو قانون چې وي: سماوي یا أرضي؛ نو د هغه د انفاذ لپاره تر یوې درجې پورې د حکومت مدد ضروري دی، ځو د هغو کسانو ضرر او فساد او عناد له مخه ورک کړی شي، چې سره له د دلائلو او براهینو له اورېدلو او د لمر په شان د حق واضح کېدلو هم ضد او عداوت چلوي، نو ځکه په (۲۷ جزء د الحدید سورت په (۲۵) آیت (۳) رکوع) کې یې فرمایلي دي: ﴿لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِيْزَانَ لِيَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۚ وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ﴾ الآیة .

وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ۚ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا ﴿۸۱﴾

او ووايه (ای محمده ! دوی ته کله چې ببر ته ننوتې مکّې ته فاتحاً): راغی حق (اسلام) او په تېښته ورک شو باطل (کفر او شرک)، بېشکه باطل دی ورکیدونکی (بې ثباته).

تفسير: دغه عظيم الشانه وړاندوينه په معظمې مکې کې شوې وه، چې هلته په ښکاره ډول سره د حق د غلبې کوم سامان نه وو، يعنې ووايه ای محمده ! لوی قرآن چې مسلمانانو ته زېرى ورکوونکی او باطل له منځه لرې کوونکی او ورکوونکی دی؛ راغی، پس وپوهېږئ چې اوس حق دين غالب شو، او د کفر د تښتېدلو پېښه يواځې له مکې معظمې څخه نه بلکه له ګردې «جزيرة العرب» څخه په عمل راځي.

په حديث کې راغلي دي: کله چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم په مکّه معظمه کې په بري ننوت؛ نو په دغه وخت کې د کعبې شريفې په چار چاپېر کې درې سوه او شپېته بُتان وو، رسول الله مبارک په يوې لښتې سره پر ګردو يو يو وار کولو، او داسې به يې فرمايل: ﴿وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ۚ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا﴾ ﴿قُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ﴾

نو هر بُت به پرمخې لوېده، په دغه شان د پاک قرآن يوه وړاندوينه پوره شوه، او بل داسې يو اعلان وکړ شو چې: «هغه کُفر چې له کعبې څخه تښتېدلی دی؛ بيا به له سره ببر ته نه راځي»، والحمد لله على ذلک.

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ۙ وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ﴿۸۲﴾

او نازلوو (پر تا) له قرآنه هغه څيز چې شفاء دی (له ظاهري او باطني امراضو)، او رحمت دی لپاره د مؤمنانو (چې نفع پرې اخلي)، او نه زياتوي (دغه قرآن) ظالمانو (کافرانو) ته مګر زيان (هلاکت چې ايمان پرې نه راوړي).

تفسير: يعنې څرنګه چې د حق له راتګه باطل تښتي؛ قرآني آيات هم بالتدريج نازليږي، نو روحاني امراض هم لرې کيږي، او له زړونو څخه د باطله وو عقائدو او ذميمه وو اخلاقو د شکوکو اوشبهاتو رنځورې بيخي محوه او ورکوي، بلکه ډېر اوقات د هغه له مبارک تأثير بدني صحت هم حاصليږي، لکه چې په (روح المعاني او زاد المعاد) او نورو کې د دې فلسفه او تجربه بيان کړی شوې ده.

په هر حال هغه کسان چې ايمان راوړي، يعنې د شفاء دغه نسخه استعمال کړي؛ نو له ګردو قلبي او روحاني امراضو څخه نجات مومي، او د الله تعالى په خصوصي رحمت او ظاهري او باطني نعماوو افتخار حاصلوي، هو ! هغه مريض چې له خپل ځان سره دښمني کوي، او له طبيب او معالجې سره دمخالفت تصميم وکړي؛ نو ظاهر دی چې په همغه اندازه چې دی له علاجه او دواء څخه نفرت وکړي، او لرې تر لرې وتښتي؛ په همغه اندازه به زيان ومومي، ځکه چې مرض د زمانې له امتداده داسې مهلک شی دی، چې له روحه سره يو ځای له بدنه لري کيږي، نو دغه آفت د پاک الله له طرفه نه بلکه پخپله د همغه ظالم مريض له لوري راغلی دی، لکه چې په جزء (۱۱، د التوبه سورت په (۱۶) رکوع، (۱۲۵) آيت) کې پاک الله فرمايي: ﴿وَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا إِلَىٰ رِجْسِهِمْ وَمَاتُوا وَهُمْ كَافِرُونَ﴾

وَإِذَا أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنسَانِ أَعْرَضَ وَنَأَىٰ بِجَانِبِهِ ۖ وَإِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ كَانَ يَئُوسًا ﴿۸۳﴾

او کله چې نازل کړو نعمت (او احسان) پر انسان (لکه صحت، وسعت او راحت)؛ نو مخ ګرځوي (له ياد د الله)، او لرې شي ترې په اړخ ګرځولو (له کبره)، او کله چې ورسيږي ده ته شر بدي؛ نو شي دی نااميده.

تفسير: يعنې د انسان عجب حال دی، کله چې الله تعالی ده ته پخپل فضل سره نعمتونه وربخښي؛ نو احسان يې نه مني، هومره عيش او آرام يې چې ور په برخه شي؛ هغومره يې د هغه حقيقي منعم له طرفه غفلت او اعراض زياتيږي، او د عبوديت له فرائضو څخه ځان وباسي، او غاړه غړول ترې غواړي، بيا کله چې سخت او خراب وخت پرې راشي؛ نو يو ځلي به ګرد اميدونه او اسرې وشکوي، مأيوس او نااميده کيني، ګواکې په دواړو حالاتو کې له پاک الله څخه خپله علاقه شکوي، کله د غفلت په بناء، کله د مأيوسۍ په اقتضاء (نعوذ بالله من کلا الحالين).

قُلْ كُلٌّ يَّعْمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ ؕ فَرَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ اَهْدٰى سَبِيْلًا ﴿۸۴﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې هر څوک عمل کوي په هغې طريقې چې مناسب وي له حاله د ده (له ښو او بدو)؛ نو رب ستاسې ښه خبردار دی په هغه چا چې هغه ښه موندونکی وي د سمې لارې.

تفسير: يعنې هر يو کافر او مؤمن، معرض او مقبل پر خپلو طريقو، نياتو، طبيعتو او مذاهبو تګ کوي، او په همغه کې بُخت او لګيا وي، ليکن په ياد يې ولرئ چې د الله تعالی له محيط علمه د هيڅ انسان هيڅ يو عمل نشي خارجېدی، الله تعالی د هر چا د عمل طريقه او حرکت او سکنات برابر ګوري، او ښه عالم دی چې کوم يو څومره سم تګ کوي، او په کوم کوم شي کې په څه اندازه چپ (کوږ) تګ کوي؟ يا په کږه لاره ځي؟ او له هر يوه سره سم د هغه له عمل سره معامله کوي.

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ ؕ قُلِ الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّيْ وَمَاۤ اُوْتِيْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۸۵﴾

او پوښتنه کوي له تا نه (ای محمده !) له روح څخه، ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې روح له امره د رب ځما دی، او نه ده درکړې شوې تاسې ته له علم (پوهې) څخه مګر لږ غوندې.

تفسير: ﴿وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ﴾ يعنې انساني روح څه شی دی؟ او د هغه ماهيت، حقيقت څه دی؟ د صحيحينو شريفينو له روايته سره موافق دغه سوال د مدينې منورې يهودانو له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د ازموينې په ډول کړی وو، او د سيرو رواياتو څخه معلوميږي چې په معظّمه مکه کې قريشو د يهودانو په مشورې دغه پوښتنه کړې ده، نو ځکه د دې آيت په مکيّت او مدنيت کې اختلاف دی، ممکن دی چې نزول يې مکرر وي، والله أعلم.

دلته د دې سوال له اندراجه به غالباً دغه مقصود وي؛ چې دغه خلق د هغو شيانو له پوهېدلو څخه چې ورته اړتيا او ضرورت لري خو اعراض کوي، او په غير ضروري مسائلو کې د عناد او تعنّت (ضد) له لارې جګړې کوي، دوی دغې خبرې ته زيات ضرورت درلود، چې د قرآني وحي له روح څخه باطني ژوندون يې حاصل کړی وی، او د دغې د شفاء له نسخې څخه مستفيد شوي وی: ﴿وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَاۤ اِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا ؕ﴾ (۲۵ جزء د الشوری سورت (۵۲) آيت (۵) رکوع)، ﴿يُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ بِالرُّوْحِ مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖۤ﴾ (۱۴ جزء د النحل سورت (۲) آيت اوله رکوع)، مګر دوی ته له لرې له کاره او د عنادي مباحثو څخه چېرې فرصت پيدا کېده؟ مثلاً دغو معاندينو به داسې پوښتنې کولې: روح څه شی دی؟ جوهر دی؟ که عرض؟ مادي دی؟ که مجرّد؟ بسيط دی؟ که مرکب؟.

د داسې قسم غامضو او بې ضرورتو مسائلو په پوهېدلو نه نجات موقوف دی، او نه دغه بحثونه د انبياوو د تبليغ له فرائضو سره تعلّق لري، لوی لوی حکماء او فلاسفه تر نن پورې پخپله د (مادې) په حقيقت نه دي مطلع شوي، روح چې په هر حال له (مادې) څخه ډېر لطيف او خفي دی، د هغه اصلي ماهيت او کنهې پورې د رسېدلو څه اميد به وکړی شي؟ د مکې معظمې د مشرکينو د جاهلاتو او د مدينې منورې د يهودانو د اسرائيلياتو مطالعه کوونکو ته معلوم

دي؛ چې هغه قوم چې په ډېرو غټو خبرو او په نهايت واضحو حقايقو هم نشي پوهېدی؛ نو دوی به د روح پر حقايقو د پوهېدلو څه قدرت او استعداد ولري؟.

﴿قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي﴾ الآية ـ يهودانو د امتحان په مقصد له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دا پوښتنه وکړه؛ نو پاک الله په واضح صورت دوی ته دغه ور ونه ښود، ځکه چې دوی د هغه د پوهېدلو حوصله نه درلوده، پخوانيو انبياوو عليهم السلام هم له مخلوق سره داسې دقيقې خبرې نه دي کړی، دومره پوهه کافي ده چې د الله تعالى په حکم سره يو شی په بدن کې لويږي، کله چې هغه روح له بدن څخه وځي؛ نو سا هم خيژي او انسان مري.

وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِ عَلَيْنَا وَكِيلًا ﴿٨٦﴾ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ فَضْلَهُ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا ﴿٨٧﴾

او که اراده وفرمايو مونږ نو خامخا ښېرته به يوسو هغه څيز چې وحي کړی دی مونږ تاته (يعنې قرآن له سينو او له صفحو)، بيا به نه مومې ته خپل ځان ته په دې کار کې پر مونږ کوم وکيل (کفيل چې ښېرته يې دروړي). ليکن (پرې مو نه ښود دا قرآن له جهته د) رحمت له جانبه د رب ستا، بېشکه فضل د دغه (الله) دی پر تا ډېر لوی.

تفسير: يعنې د لوی قرآن علم چې پاک الله تا ته درکړی دی، که الله تعالى اراده وفرمايي او د لږ څه مودې له مخې هغه در څخه واخلي؛ نو بيا به يې بل څوک نشي درکولی، ليکن د الله تعالى مهرباني پر تاسې ډېره زياته ده، نو ځکه يې دغه لوی نعمت در عنايت فرمايلی دی، او هيڅ وجه او دليل په لاس کې نشته، چې هغه در څخه ښېرته واخلي، او يوائې د عظيمه قدرت اظهار مقصود دی، او هومره چې کامل روح وي، خو بيا د هغه ګرد کمالات موهوب او مستعار دي، او ذاتي نه دي.

قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴿٨٨﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) خامخا که يو ځای شي (ګرد) انسانان او (ګرد) پيريان په دې چې راوړي په شان د دې قرآن (په فصاحت بلاغت او درايت کې)؛ نو رابه نه وړي په شان د دې (قرآن) اګر که شي ځينې د دوی له ځينو نورو سره ملاتړي.

تفسير: د لوی قرآن د اعجازو په متعلق په متعددو مواضعو کې کلام شوی دی، او پر دغه موضوع کې ځمونږ مستقله رساله «اعجاز القرآن» هم چاپ شوې ده، هغه دې ولوستله شي.

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ۖ فَأَبَىٰ أَكْثَرُ النَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ﴿٨٩﴾

او خامخا په تحقيق مکرّر بيان کړی دی مونږ خلقو ته په دې قرآن کې (مثل) له هره قسمه مثاله (لکه ترغيب ترهيب قصص او اخبار چې عبرت پرې واخلي)؛ نو غاړه کښښوده اکثرو خلقو (او راضي نشول په هيڅ) مګر په ناشکرۍ (او انکار له حقه).

تفسير: يعنې د دوی د خير غوښتلو لپاره عجيب او غريب مضامين څو څو ځلې په مختلفو اسالیبو او په قسم قسم عناوينو بيان کړل شول، ليکن اکثرو احمقانو د هغه قدر ونه کړ، او د احسان منلو په ځای د هغه پر ناشکرۍ ګردو سره لاس يو کړ.

وَقَالُوا لَنْ نُؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الْأَرْضِ يَنْبُوعًا ﴿۹۰﴾ أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِنْ نَخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ
الْأَنْهَارَ خِلٰلَهَا تَفْجِيرًا ﴿۹۱﴾ أَوْ تُسْقِطَ السَّمَاءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا أَوْ تَأْتِيَ بِاللّٰهِ وَالْمَلٰئِكَةِ قَبِيلًا ﴿۹۲﴾
أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِنْ زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقٰى فِي السَّمَاءِ وَلَنْ نُؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتّٰى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتٰبًا نَقْرَؤُهُ
قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنْتُ إِلَّا بَشَرًا رَسُولًا ﴿۹۳﴾

او وايي (قريش) له سره به ايمان رانه وړو په تا (ای محمده !) تر هغه پورې چې جاري کړې ته مونږ ته له ځمکې (د مکې تل بهيدونکې خوښدونکې) چينه. يا چې وي تا ته يو باغ له خرماوو او انګورو، نو روانې کړې ته ويالې په منځ د دې باغ کې په روانولو سره، يا چې راوغورځوې ته اسمان لکه چې ګمان کوې ته پر مونږ باندې ټوټې ټوټې، يا چې راولې ته الله او پرښتې مخامخ (ښکاره چې يې ووينو). يا چې وي تا ته يو کور له سرو زرو (يا ملمع په سرو زرو چې په کې کينې)، يا چې پورته وخېژې په اسمان کې، او له سره به ايمان رانه وړو په (تش) ختلو ستا (اسمان ته که چېرې وخېژې) تر هغه پورې چې راکوز کړې پر مونږ باندې داسې يو کتاب چې لولو يې (او تصديق ستا وي په کې)، ووايه (ای محمده ! دوی ته) پاکي ده رب ځما ته، آيا يم زه (يعنې نه يم زه) مګر يو انسان رالېږلی شوی (په شان دنورو رسولانو).

تفسير: کله چې کفّارو د لوی قرآن له اعجازه عاجز شول؛ نو په داسې لړې له مقصده فرمايشونو يې لاس پورې کړ، ځکه چې د دوی دغه عرض لپاره د استفادې او انتفاع نه وو، او محض تعنّت او عناد د هغوی مقصود وو.

په ﴿أَوْ تُسْقِطَ السَّمَاءَ﴾ کې هغه طرف ته اشاره ده چې د (۹ آيت سبأ سورت په (۱) رکوع کې) داسې ارشاد شوی دی: ﴿إِنْ نَشَأْ نَخْسِفْ بِهِمُ الْأَرْضَ أَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِنَ السَّمَاءِ﴾

وَمَا مَنَعَ النَّاسَ أَنْ يُؤْمِنُوا إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدٰى إِلَّا أَنْ قَالُوا أَبَعَثَ اللّٰهُ بَشَرًا رَسُولًا ﴿۹۴﴾

او نه دي منع کړي دې خلقو لره له دې نه چې ايمان راوړي کله چې راغی دوی ته بيان د حق (په ژبه د رسول) مګر (منع کړي دي خلق) دې خبرې چې ويلې به دوی: آيا رالېږلی دی الله يو سړی (يو انسان) رسول؟ ! (او پرښته يې ولې نه رالېږله).

تفسير: يعنې سره د هدايت د رڼا د رسېدلو د دوی سترګې خلاصې نشوې، او در ګرده به يې هم دا ويل چې بنی آدم څرنګه د الله تعالی رسول کېدی شي؟ که پاک الله نبي لېږه؛ نو له اسمانه به يې کومه پرښته رابنکته کوله.

د يادونې وړ ده هغه څوک چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم بشريت نه مني، ددغه کفارو له شبهې څخه متأثر دی او د قرآن کريم له صريحې نصوصو څخه سر غړونه کوي، لکه چې فرمائي:

قُلْ لَوْ كَانَ فِي الْأَرْضِ مَلٰئِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِنَ السَّمَاءِ مَلَكًا رَسُولًا ﴿۹۵﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) که چېرې وی په ځمکه کې ملائکې (په بدل د انسان) چې ګرځېدلې په آرام سره (په شان د انسانانو)؛ نو خامخا رالېږلې به وه مونږ پر دوی باندې له اسمانه يو پرښته رسول.

تفسير: يعنې که دغه ځمکه د بني آدمانو په ځای د پرښتو کلی او د هستوګنې ځای وی؛ نو بېشکه موزون به وی چې مونږ کوم پرښته نبي ګرځولې او لېږلې وی، که د بني آدمانو په طرف پرښته خپل اصلي صورت سره ولېږله شي؛ نو

زړونه او سترګې له سره د هغې د لیدلو توان نه لري، نو له هغه څخه به څرنګه مستفید کېدی شوی؟، او که د بني آدمانو په صورت راشي؛ نو خلق به په اشتباه کې لویږي، دغه تقریر د «الأنعام» د سورت په اوله رکوع کې تېر شوی دی، هغه دې ولوستل شي !.

قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۭ اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًۢا بَصِيْرًا ﴿۹۶﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) کافي دی الله شاهد په منځ ځما او ستاسې کې، بېشکه چې الله دی په بندګانو خپلو ښه خبردار ښه لیدونکې.

تفسیر: هغو کسانو چې داسې به یې ویل: ﴿اَوْ تَاْتِيَ بِاللّٰهِ وَالْمَلٰۗىِٕكَةِ قَبِيْلًا﴾ یعنې که الله له مونږ سره مخامخ شي، او ستا تصدیق وکړي؛ نو هله به یې ومنو، نو یې وفرمایل چې: الله اوس هم پخپل فعل سره ځما تصدیق کوي، ځکه چې هغه علیم او خبیر دی، اوګوري چې زه د نبوّت وظایف انجاموم او ځما له هغو ګردو مصائبو څخه چې یې تېروم، او له هغو مساعیو څخه چې په پټه او ښکاره یې کوم؛ پوره خبردار دی، او سره له هغه دی له ما سره مرسته (مدد) کوي، او ځما په لاس او ژبه متمادیًا داسې علمي او عملي نښې ښکاره کوي؛ چې خارق العاده او د ده د عمومي قدرتي قانون څخه ډېر لوړ او عالي دي، هغه ځما مقصد یومًا فیومًا کامیاب، بریالی، کامران، او وسیع الأثر ګرځوي، او تکذیب کوونکي ته قدم په قدم تنبیه ورکوي، چې په دې عمل سره بیخي تاسې فلاح نشئ موندلی، آیا دغه د الله تعالی له جانبه فعلي ښکاره شهادت نه دی؟ چې زه په دغه خپله دعوی کې صادق یم؟ آیا له یوه مفتري سره پاک الله هم داسې معاونت او مرستې کوي؟.

وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ اَوْلِيَاۗءَ مِنْ دُوْنِهٖ ۭ وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰي وُجُوْهِهِمْ عُمْيًا وَّبُكْمًا وَّصُمًّا ۭ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۭ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنٰهُمْ سَعِيْرًا ﴿۹۷﴾

او هر هغه چاته چې سمه لاره وښودله الله؛ نو همغه د سمې لارې موندونکی دی، او هر څوک چې یې ګمراه کړي (الله)؛ نو له سره به نه مومې ته دوی ته نور دوستان پې له دغه (الله څخه چې سمه لاره وروښیي)، او راجمع به کړو (مونږ) دوی لره په ورځ د قیامت کې (نسکور تلونکي په سبب د بدو عملونو د دوی) پر مخونو خپلو چې ړانده او ګونګیان او کانه به وي، ځای د دوی به دوزخ وي، هر کله چې غلې شي (لمبې د دوزخ) زیات به کړو دوی ته تېز اور.

تفسیر: یعنې د قیامت په ځینو مواطنو کې به کفّار پر خپلو مخونو نسکور ړانده او ګونګیان او کانه کړی شوي بیولی کیږي، په حدیث کې راغلي دي چې لویو اصحابو عرض وکړه، چې یا رسول الله ! دوی به څرنګه په خپلو مخونو نسکور بیولي کیږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه قادر مطلق یې چې پر پښو بیولی شي؛ همغه قادر دی چې په سر یې هم روان کړي.

پاتې شو د دوزخیانو پرمخې کشول (راښکل)؛ نو هغه به وروسته د دوزخ د داخلېدو څخه وي: ﴿يَوْمَ يُسْحَبُوْنَ فِي النَّارِ عَلٰي وُجُوْهِهِمْ ذُوْقُوْا مَسَّ سَقَرَ﴾ (۲۷ جزء د القمر (۴۸) آیت (۳) رکوع).

ذٰلِكَ جَزَاۗؤُهُمْ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا وَقَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِيْدًا ﴿۹۸﴾

دا (عذاب) جزاء د دوی ده په سبب د دې چې بېشکه دوی کافران شوي وو په آیتونو ځمونږ او ویل به دوی: آیا کله چې شو مونږ هډوکي او خاوري ریزه ریزه، آیا مونږ خامخا بیا پورته کاوه شو په پیدایښت نوي سره؟ !.

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ قَادِرٌ عَلَىٰ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُمْ وَجَعَلَ لَهُمْ أَجَلًا لَّا رَيْبَ فِيهِ ۖ فَأَبَى الظَّالِمُونَ إِلَّا كُفُورًا ﴿٩٩﴾

آيا نه ګوري دوی (او نه دي خبر په دغه) چې بېشکه هغه الله چې (په خپل کامله قدرت سره) يې پيدا کړي دي اسمانونه او ځمکه، قادر دی پر دې چې پيدا کړي په مثل د دوی (نور ډېر)؟، او مقرر کړی يې دی دوی ته يو اجل (نېټه) چې نشته هيڅ شک په هغه کې، نو منعه راوړه (او ونه منله) ظالمانو (هيڅ شی) مګر ناشکري (او انکار له بعثه او حشره).

تفسير: يعنې هغه لوی ذات چې دومره لوی اجسام يې پيدا کړي دي، نو آيا هغه ته ستاسې په شان د يوه وړوکي شي پيدا کول څه اشکال لري؟ ﴿لَخَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ﴾ (۲۴ جزء د المؤمن (غافر) سورت (۵۷) آيت (۶) رکوع).

﴿فَأَبَى الظَّالِمُونَ إِلَّا كُفُورًا﴾ يعنې سره د دومره واضحه وو مضامينو او دلائلو د اورېدلو سره هم د دې بې انصافانو په کُفر او ضلال او ناشکرۍ کې همغه ترقي او پرمختګ ليدل کيږي، او لږ څه هم په لاره نه راځي.

قُل لَّوْ أَنتُمْ تَمْلِكُونَ خَزَائِنَ رَحْمَةِ رَبِّي إِذًا لَّأَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ الْإِنفَاقِ ۚ وَكَانَ الْإِنسَانُ قَتُورًا ﴿١٠٠﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) که چېرې تاسې مالکان شئ د خزانو د رحمت د رب ځما؛ نو په دغه وخت کې هرومرو (خامخا) منع به راوړئ (بخل وکړئ) د وېرې د (خلاصېدو د مال په) انفاق (کې)، او دی انسان زړه تنګ او بخل کوونکی.

تفسير: په تېره رکوع کې يې فرمايلي وو: ﴿إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ فَضْلَهُ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا * قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْآنِ﴾ الآية ـ «الله تعالى په خپل رحمت پر تاسې لوی فضل کړی دی، چې د قرآن په شان يو بېمثاله دولت يې عطاء فرمايلی دی»، په منځ کې يې د مخالفينو د تعنّت او عناد او له کاره وتلي مطالباتو، اعراض او تکذيب او د هغو د نتائجو ذکر وکړ، دلته بيا د همغه پخواني مضمون په طرف عود (واپسي) کړی شوی دی، يعنې يوه بنده ته داسې عظيم الشأن رحمت او عديم النظير دولت وربخښل د همغه حقيقي جواد او مطلق وهّاب له شأنه څخه کېدی شي، چې د هغه سره د غير متناهي رحمت خزانې دي، او کوم مستحق ته زيات څخه په زيات ورکولو کې نه ده ته د فقر او مسکنت وېره پيدا کيږي، او نه د دې خبرې اندېښنه ورته پېښېدی شي چې هغه بل به ځما په ورکړه او امداد ځما مقابل او مخامخ شي، يا وروسته د دې امداد د هغه لاس به پر ما پورته او زه به تري ښکته شم، الله قدّوس د تنګ زړه او ډارېدونکي انسان په شان العياذ بالله تنګ زړی نه دی، چې که هغه (انسان) د رحمت د خزانې مختار مالک وګرځولی شي؛ خو بيا هم د ده له طبيعت څخه بخل او تنګ زړه توب نه ځي، او د کوم يو مستحق د ورکړې څخه دومره ويريږي، چې ځما ګرد شته او ثروت به په کې صرف شي، او زه به تش لاس په ميدان کې پاتې شم، يا خپل مال چې زه نن پر هغه لګوم؛ نه چې هغه سبا ورځ ځما سيال او شريک يا له ما څخه زيات ښاغلی شي، په هر حال که د الهيه رحمت خزانې ستاسې په قبضه کې وی؛ نو تاسې به هيڅا ته هيڅ شی نه ورکول.

وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَىٰ تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ فَاسْأَلْ بَنِي إِسْرَائِيلَ إِذْ جَاءَهُمْ فَقَالَ لَهُ فِرْعَوْنُ إِنِّي لَأَظُنُّكَ يَا مُوسَىٰ مَسْحُورًا ﴿١٠١﴾

او البته په تحقيق ورکړي دي مونږ موسی ته نهه معجزې ښکاره، نو پوښتنه وکړه (ای محمده ! د علماوو) د بني اسرائيلو څخه کله چې راغی (موسی) دوی ته؛ نو وويل دغه (موسی) ته فرعون: بېشکه زه ګمان کوم پر تا ای موسی د سحر کړی شوي.

تفسير: يعنې همغسې چې پاک الله تاسې ته ای محمده صلی الله علیه وسلم پخپل فضل او رحمت سره عظیم قرآن عنایت کړی دی، او نو ډېر مراحم یې هم پر تا مبذول فرمایلي دي؛ همداسې مونږ پخوا له دې نه موسی علیه السلام ته ښکاره نښې او معجزې د ده د حاله سره مناسب عنایت فرمایلي دي څه وخت چې ده بني اسرائیلو ته د فرعون له ظلمونو څخه د نجات بخښلو لپاره تشریف راوړی وو، که یې غواړې نو د بني اسرائیلو د باخبره او منصف مزاجه علماوو څخه پوښتنه وکړه، او ویې ګوره چې تر کومه ځایه پورې صحیح دي.

تنبیه: هغه نهه معجزې دا دي: ۱- ید بیضاء، ۲- عصا، ۳- سنین، ۴- نقص الثمرات، ۵- طوفان، ۶- جراد، ۷- قمل، ۸- ضفادع، ۹- دم (په ځینو تفاسیرو کې طوفان، قحط، او د نقص الثمرات په ځای حجر، بحر او رفع الطّور راغلی دی)، د الأعراف «د سورت په (۱۶) رکوع کې ځمونږ د دغه فوائد موضح القرآن» د ﴿فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ﴾ الآية - په تفاسیرو کې مو د هغه تفصیل لیکلی دی، هلته دې وکتلی شي.

قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّى لَأَظُنُّكَ يَٰفِرْعَوْنُ مَثْبُورًا ﴿١٠٢﴾

وویل (موسی بیا) خامخا په تحقیق پوهېږې (ته پخپل زړه کې) چې نه دي نازلې کړې دغه (نهه معجزې هیڅوا) مګر رب د اسمانونو او د ځمکې، معجزې ښکاره (چې هر یوه دلالت کوي په نبوّت ځما)، او په تحقیق زه خامخا ګمان کوم پر تا ای فرعونه د هلاک شوي (مغلوب کم عقله).

تفسير: یعنې اګر که ستا ژبه انکار کوي، مګر ستا زړه ډېر ښه پوهیږي چې دغه عظیم الشأن نښان ستا د سترګو د خلاصولو لپاره همغه قادر او قاهر الله درښوولی دی، چې د آسمان او د ځمکې حقیقي مالک دی، اوس که کوم سړی عمداً محض د ظلم او تکبّر د لارې له حقه انکار وکړي، د هغه په نسبت به پرته له دې نه څه خیال کولې شي، چې د ده د تباهی وخت پر سر رسېدلی دی، له دې نه معلوم شو چې ایمان د پوهېدلو نوم نه بلکه د منلو نوم دی (یعنې عقیده او عمل): ﴿وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا﴾ (۱۹ جزء د النمل سورت (۱۴) آیت اوله رکوع).

فَأَرَادَ أَن يَسْتَفِزَّهُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ فَأَغْرَقْنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ جَمِيعًا ﴿١٠٣﴾

نو اراده وکړه (فرعون) د دې چې وخوځوي او لرې کړي دوی له ځمکې (د مصر)؛ نو ډوب مو کړ فرعون او هر هغه څوک چې له ده سره وو ټول.

تفسير: کله چې فرعون ولید چې ورځ په ورځ د موسی علیه السلام اثر زیاتیږي؛ نو داسې اندېښنه ور پیدا شوه، چې بني اسرائیل چېرې زور او قوت ونه نیسي، نو ځکه یې د هغوی په زیات ربړولو (تکلیف کولو) شروع وکړه، او داسې یې مقرره کړه، چې دوی په مصر کې په امن او راحت سره ژوندون ونه کړی شي، خو بالآخر مونږ همدغه فرعون او فرعونیان پرېښودل، او د قلزم په بحیره کې مو ګرد هغه ظالمان ډوب کړل.

وَقُلْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ لِبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱسْكُنُوا۟ ٱلْأَرْضَ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ ٱلْءَاخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا ﴿١٠٤﴾

او ومو ویل وروسته (د غرق) د فرعون بني اسرائیلو ته چې اوسئ تاسې (اوس په دې) ځمکه (د مصر) کې؛ نو کله چې راشي وعده د آخرت (یعنې قیامت)؛ نو به راولو تاسې (سبطیان او قبطیان په محشر کې حساب ته یو ځای) ګډوډ.

تفسير: يعني پاک الله د ظالمانو بېخ او بکرو ويست، او تاسې ته يې د هغوی د مريتوبه نجات درکړ، اوس (مصر) ته (يا شام) هر چېرته مو چې زړه غواړي؛ په آزادۍ او هوسايۍ (آرام) سره تلی شئ، کله چې قيامت راشي بيا به يو ځلې تاسې او ستاسې تباه شوي دښمنان سره يو ځای کوو، او هلته به د شقي او سعيد، هالک او ناجي دائمي فيصله صادريږي.

وَبِالْحَقِّ أَنزَلْنَاهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ۗ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿١٠٥﴾

او په حقه نازل کړی مو دی دغه (قرآن) او په حقه سره نازل شوی دی (او له اوله او تر آخره محفوظ دی)، او نه يې لېږلی مونږ ته (ای محمده !) مګر زېری ورکوونکی (مؤمنانو ته په نعيم سره) او ويروونکی (کافرانو ته په جحيم سره).

تفسير: د موسی عليه السلام د معجزاتو او نورو خبرو د ذکر کولو څخه وروسته بيا د کلام مخ يې د لوی قرآن په لوري وګرځاوه، يعني موسوي معجزات پر خپل ځای پرېږدئ، ليکن هغه ښکاره معجزې چې محمد صلی الله عليه وسلم ته ورکړی شوي دي؛ په هغو کې له ګردو څخه لويه علمي معجزه همدغه عظيم الشأن قرآن دی، چې هغه مو سم له حکمته سره پخپل عظيم علم او په اعلی درجه صداقت مشتمل کړی او لېږلی دی، او پوره په همغه صداقت سره تاسې ته رسېدلی دی، او په منځ کې يې لږ څه تغيير او تبديل هم نه دی واقع شوی: ﴿فَاعْلَمُوا أَنَّمَا أُنزِلَ بِعِلْمِ اللَّهِ وَأَن لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ (۱۲ جزء د هود سورت (۲) رکوع، (۱۴) آيت).

وَقُرْآنًا فَرَقْنَاهُ لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلَىٰ مُكْثٍ وَنَزَّلْنَاهُ تَنزِيلًا ﴿١٠٦﴾

او قرآن نازل کړی دی مونږ هغه ټوټه ټوټه (لږ لږ) لپاره د دې چې ولولې ته (ای محمده !) دغه (قرآن) په خلقو باندې په آرام سره، او نازل کړی دی مونږ دغه قرآن په نازلولو سره.

تفسير: د لوی قرآن له رالېږلو څخه اصلي مقصد د هغه پوهېدل او پرې عمل کول دي، چې همدغه ته تدبّر او تذکّر وايي، ليکن د هغه تش الفاظ او حروف هم له نورانيت او برکته تش نه دي: ﴿كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِّيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾ (۲۳ جزء د ص سورت (۲۹) آيت (۲) رکوع)، نو ځکه د هغه سورتونه او آيتونه سره ېېل ېېل کړی شوي دي، څو د تلاوت کولو په وخت کې پوره تسهيلات وي، او د ويونکي او اورېدونکي د علم، فهم، حفظ او نورو ته هم اساني وي، او ورو ورو يې ځکه را نازل کړ؛ چې څرنګه حالات به راوړاندې کېده، د هغه سره به مناسب احکام او هدايات صادرېده، څو هغه جماعت چې وروسته له دې نه ګردې دنيا معلّمان او لاره ښوونکي ګرځېدل؛ د هر آيت او حکم موقع او محل او نور خصوصيات هم په ښه شان سره په ياد وساتلی شي، او د راتلونکو نسلونو لپاره د کوم آيت د يې موقعه استعمالولو ګنجايش نه وي پاتې.

قُلْ آمِنُوا بِهِ أَوْ لَا تُؤْمِنُوا ۚ إِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مِن قَبْلِهِ إِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ يَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ سُجَّدًا ﴿١٠٧﴾
وَيَقُولُونَ سُبْحَانَ رَبِّنَا إِن كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُولًا ﴿١٠٨﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې ايمان راوړئ په دې قرآن يا ايمان نه راوړئ، بېشکه هغه کسان چې ورکړی شوی دی دوی ته علم پخوا له دغه (قرآنه) کله چې ولوستی شي پر دوی (دغه قرآن؛ نو) نسکور پرېوځي دوی (په ځمکه) په زنو (وچولو «تندو» خپلو) په دې حال چې سجده کوونکي وي (تعظيمًا وتشکرًا). او وايي دوی: پاکي ده رب ځمونږ ته، په تحقيق سره ده وعده د رب ځمونږ خامخا کېدونکي.

تفسير: يعنې تاسې يې منئ که يې نه منئ؛ د لوی قرآن د حقانيت او د رسول الله مبارک د رسالت تصديق هغه منصف مزاجه اهل العلم کوي چې د پخوانيو سماويه وو کتابونو د بشاراتو څخه خبرداره دي؛ دوی د دغه پاک کلام د اورېدلو څخه پرمخې پر خپلو زنو سرونه په سجده ږدي، او وايي سبحان الله دا څومره عجيب او غريب کلام دی، بېشکه د الله تعالی هغه وعده پوره کېدونکې ده، چې د موسی عليه السلام په ژبه د تورات په کتاب (سفر استثناء) کې کړی شوې وه چې (ای بني اسرائيلو ! زه به ستاسې په وروڼو (بني اسماعيل) کې يو نبي مبعوث کوم، چې د هغه په خوله کې به خپل کلام اچوم) بلا شُبهه هغه همدا کلام دی چې د محمد صلی الله عليه وسلّم په مبارکه خوله کې اچولی شوی دی، کله چې اهل العلم د قرآن د حقّانيت تصديق کوي؛ نو اوس د جاهلانو له انکاره هغه ته هيڅ يو اعتراض نه دی متوجّه.

وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا ﴿١٠٩﴾

او نسکور پرېوځي دوی (پر ځمکه) پر وچولو (تندو) خپلو چې ژاړي دوی (د الله له وېرې) او زياتوي دوی ته (اورېدل د قرآن) عاجزي.

تفسير: يعنې کله چې پاک قرآن اوري؛ پر دوی رقّت طاري کيږي، او په سجده لويږي، او په تواضع، عجز او نياز کې تزييد کوي، کله چې سر په سجده ږدي؛ نو لا د دوی د عجز او نياز په مراتبو کې تزييد پيدا کيږي، د اذقان (زنو) په لفظ کې ښايي دې طرف ته هم اشاره وي، چې په سجود کې زياته مبالغه کوي، ځکه چې خپلې زنې هم پر ځمکه لګوي، يا به دغه محض د سجود علی الوجه څخه کنايه وي، والله أعلم.

قُلِ ادْعُوا اللَّهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمَٰنَ ۖ أَيًّا مَّا تَدْعُوا فَلَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ ۚ

ووايه (ای محمده ! دوی ته) وبولئ تاسې الله، يا وبولئ تاسې رحمان، هر يو نوم يې چې وبولئ (او واخلئ تاسې؛ پس هغه ښه دی)؛ نو ده لره دي نومونه ډېر ښائسته.

تفسير: د سُجود او خشوع او نورو په مناسبت دلته د دعاء (د الله د بلنې) او د دعاء په مناسبت په وروستني آيت کې د «صلوة» ذکر کړی شوی دی، واقعه دا ده چې د الله تعالی له نومونو څخه د عربو مشرکينو په نزد د «الله» لفظ استعمال ډېر زيات وو، او د ﴿اَلرَّحْمٰنُ﴾ لفظ او نوم په دوی کې دومره مأنوس نه وو، البته په يهودانو کې د ﴿اَلرَّحْمٰنُ﴾ اسم کثير الاستعمال وو، په عبراني کې هم دغه مبارک اسم همداسې مقدّسه معنی درلوده، لکه چې په عربي کې يې لري، د بل لوري (مسيلمة الکذّاب) هم خپل لقب «رحمن اليمامة» ايښی وو.

الغرض مشرکانو پر الله د ﴿اَلرَّحْمٰنُ﴾ د اسم له اطلاقه بد وړل، او تور به يې ځنې خوړ، او په وحشت کې به تړې لوېدل، لکه څه مهال (وخت) چې د رسول الله مبارک له ژبې څخه يې ﴿اَلرَّحْمٰنُ﴾ اورېده؛ نو په خپلو منځونو کې به يې ويل چې: محمد مونږ د دوو معبودانو له بللو څخه منع کوي، او دی پخپله ماسوا د الله څخه ﴿اَلرَّحْمٰنُ﴾ ته هم غږ کوي.

يهودانو به داسې شکايت کولو چې په محمّدي اذکارو کې او اورادو کې ولې د ﴿اَلرَّحْمٰنُ﴾ د نامه ذکر په دغه اندازه زيات نه دی لکه چې په مونږ کې شته؟ نو د دغو دواړو ځواب په دغه آيت کې ورکړی شوی دی، چې لفظ «الله» او لفظ د «رحمن» دواړه د يوه منبع الکمالات ذات دوه نومونه دي، د صفاتو او د اسماوو د تعدّد څخه د ده د ذات تعدّد نه لازميږي، او نه د هغه څيز د توحيد سره څه منافات لري، پاتې شوه دغه خبره چې يو نوم ولې په کثرت استعماليږي؟ نو وپوهېږئ چې د پاک الله هومره چې أسماء الحُسنی دی؛ له هغو څخه هر يو نوم چې واخلئ او په

هغه سره پاک الله ته غږ وکړئ؛ صحیح دی، او مقصود ترې همغه یو ذات دی، او د عنواناتو او تعبیراتو په تنوّع سره معنوَن نه بدلیږي.

وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿۱۱۰﴾

او ډېر ظاهروالی مه کوه په (قرائت د) لمانځه خپل کې، او مه کوه ډېر پټوالی په هغه کې، او ولټوه په منځ د دغه (جهر او اخفاء) کې یوه لاره (متوسّطه).

تفسیر: یعنې په جهري لمانځه کې (او همداسې په ادعیه وو او اورادو او نورو کې هم نه ډېر په زور سره غږ بدل په کار دي، او نه ډېر په ورو سره ویل لازم دي، بلکه منځنی او متوسط قرائت موزون دی (موضح القرآن).

په احادیثو کې دي: کله چې په مکّه معظّمه کې قرائت په زوره سره لوستل کېده؛ نو مشرکینو به د هغه په اورېدلو سره هم قرآن او هم د هغه لیږونکي او د هغه راوړونکي او هم ویونکي په نسبت او شان کې چټې (بېکاره) خبرې او اپلټې ویلې، نو ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډېر ورو ورو لوستلو شروع وکړه، نو په دغه مناسبت دا آیت نازل شو، یعنې نه دومره په زور یې ولوله، چې مشرکین یې په خپلو کورونو او مجالسو کې واوري، او نه دومره ورو ورو یې ولوله؛ چې پخپله ستا ملګري هم هغه وانه وري، او ترې مستفید نشي، افراط او تفریط دواړه پرېږدئ ! او متوسّطه رویه ځان ته غوره کړئ ! چې په هغې سره قلب متأثر کیږي، او تشویش بیخي ورک کیږي، نو هر کله چې دوی مدینې منورې ته هجرت وکړو، نو دغه حکم ختم شوو.

تنبیه: ددي آیت شریف او د الأعراف سورت د (۱۸۰) د آیت شریف څخه دا راخرګندیږی چې الله تعالی په دعاء او په ذکر کې په هغه نومونو یاد شي او وبلل شي په قرآني یا صحیح نبوي نصوصو کې ثابت وي، او له هغه نومونو څخه ځان وساتل شې چې په شرعي نصوصو کې د هغې ثبوت نه وی، بلکه د هری ژبی خاوندانو به خپله ژبه کې په الله تعالی نوم اینبی وي، تر څو له هغه الحاد څخه ځان وژغورل شې چې د الأعراف په سورت کې ورڅخه منع راغلی ده.

وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُن لَّهُ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا ﴿۱۱۱﴾

ووایه (ای محمده !) چې ټوله ثنا صفت هغه الله لره دي چې نه یې دی نیولی څوک ولد (لکه چې یهودان او نصاری یې وایي)، او نشته ده ته شریک په ملک (سلطنت) کې (لکه چې مشرکان وایي) او نشته ده ته څوک دوست له جهته د عاجزی (لکه چې کتابیان یې وایي)، او نسبت د لویي وکړه الله ته (هر وخت) په لویی کاملې سره.

تفسیر: له لمانځه څخه وروسته د خالص توحید ذکر یې وفرمایه او سورت یې ختم کړ، یعنې ګرد محامد او ثناوې خاص د هغه الله تعالی لپاره دي، چې په خپلو ګردو صفاتو او کمالاتو کې واحد دی، او له هر راز (قسم) عیوبو او قصورو او نقصو او فتورو څخه بیخي پاک او منزّه دی.

د ده په ذات کې هیڅ قسم داسې ضعف او کمزوري نشته، چې د هغه د تلافی لپاره بل چا ته اړ یا محتاج شي، له بل چا ځنې په مدد اخیستلو کې درې احتماله کېدی شي، یا له وړوکي څخه مدد وغوښتی شي، لکه چې پلار له اولاد څخه مدد اخلي، یا له مساوي څخه لکه چې یو شریک له بل شریک څخه مرسته غواړي، یا له لوی څخه لکه چې کمزور او ضعیف انسان د ذلّت او مصیبت په وخت کې له غټانو او مشرانو څخه امداد غواړي، په دغه آیت کې

د دغو دریو واړو نفي وکړه شوه، ځکه چې په ﴿لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا﴾ سره د اول احتمال او په ﴿وَلَمْ يَكُنْ لَهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ﴾ سره دوهم او په ﴿وَلَمْ يَكُنْ لَهُ وَلِيٌّ مِنَ الذُّلِّ﴾ سره د دریم احتمال د نفي کولو څخه وروسته په ﴿وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا﴾ کې یې د خپل عظمت او کبریائي په لوري مونږ ته توجّه راکړه.

یعنې انسان ته لازم دي چې د الله تعالی پر عظمت او کبریائي له زړه او په ژبه سره اقرار وکړي، او هغه جلّ وعلا له له هر راز کمزوریو څخه ارفع او اعلی وګڼي، او لطف دا دی چې په ﴿لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا﴾ کې د نصاری او په ﴿وَلَمْ يَكُنْ لَهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ﴾ کې د مشرکانو او په ﴿وَلَمْ يَكُنْ لَهُ وَلِيٌّ مِنَ الذُّلِّ﴾ کې د هغو یهودانو تردید وشو، چې د هغو په نزد د الله ببرې د یعقوب علیه السلام په مقابل کې مقاومت ونشو کولی (العیاذ بالله).

تمّت سورة بنیٓ اسرآئیل بعون الله وحُسن توفیقه، فلله الحمد والمنّة.

سُورَةُ الكَهْفِ

«د (الكهف) سورت مكي دى، پرته له (٢٨) آيت څخه او له (٨٣ـ ١٠١) آيته پورې چې مدني دي، (١١٧) آيته، او (١٢) رکوع لري، په تلاوت (١٨) او په نزول کې (٦٩) سورت دى، وروسته د «الغاشية» له سورت څخه نازل شوى دى».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکى دى.

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنزَلَ عَلَىٰ عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَل لَّهُ عِوَجًا ﴿١﴾

هر ثنا صفت خاص الله لره دى، هغه (الله) چې نازل کړى (يې) دى پر بنده خپل (محمد صلى الله عليه وسلم) کتاب (قرآن)، حال دا چې نه يې دى ګرځولى په دې قرآن کې هيڅ کوږوالى (نه په الفاظو او نه په معانيو کې).

تفسير: يعنې له اعلى څنې د اعلى تعريفونو او شکرونو مستحق هغه پاک الله کېدى شي؛ چې خپل مخصوص او ډېر مقرّب بنده محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې يې له ګردو (ټولو) څخه اعلى او اکمل کتاب نازل کړى دى، او په دې شان اهل د ځمکې يې په ډېر لوى نعمت او برکت مشرّف او ممتاز فرمايلي دي، بېشکه په دغه مقدّس کتاب کې له سره هيڅ يوه کږه وړه او خرابه خبره نشته، عبارات يې په انتهايي درجه سليس او فصيح، د بيان اسلوب يې ډېر مؤثر او صحيح، تعليم يې نهايت واضح، متوسط او معتدل دى، چې له هر وخت او له هر طبيعت سره مناسبت او مقاربت لري، او له سليم عقل او فطرت سره بالکل مطابق دى، د هيڅ قسم افراط او تفريط هيڅ قسم اثر او شائبه په کې نشته.

قَيِّمًا لِّيُنذِرَ بَأْسًا شَدِيدًا مِّن لَّدُنْهُ

حال دا چې سم برابر دى (افراط او تفريط له سره په کې نشته، او نازل کړى يې دى) لپاره د دې چې وويروي (محمّد په دې کتاب سره کفّار) د عذابه سخته له جانبه د الله.

تفسير: يعنې دغه مقدّس کتاب له هغه عذاب او سخت آفته چې پر مکذّبانو د قهّار الله تعالى له طرفه راتلونکى دى؛ خبر ورکوي.

تنبيه: ځينو د ﴿قَيِّمًا﴾ معنى په «مستقيم» سره کړې ده، او دا يې د پخواني مضمون تأکيد مقرر کړى دى، يعنې هومره غور چې وکړئ د يوه وينته په اندازه هم کوږوالى به په هغه کې ونه مومئ، مګر (فراء) د دې لفظ معنى داسې ورکړې ده: «قيّما على الكُتب السماوية»، «د ګردو سماويه وو کتابونو په تصديق او صحت مهر لګوونکى دى، او د هغو د اصولي تعليماتو په دنيا کې قايم ساتونکى دى»، او مسلم وايي: «قيّما بمصالح العباد»، «د ګردو بندګانو د ټولو مصالحو متکفّل دى، او د دوى د معاش او د معاد رغوونکى دى»، په هر حال هره معنى چې ترې واخيسته شي؛ د هغه په صداقت کې هيڅ د شبهې ځائ نشته.

وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا حَسَنًا ﴿٢﴾ مَّاكِثِينَ فِيهِ أَبَدًا ﴿٣﴾

او زېرى ورکړي (محمد) مؤمنانو ته، هغو ته چې کړي دي دوى ښه (عملونه) چې بېشکه شته دوى ته اجر ښه (چې جنت دى). حال دا چې اوسېدونکي به وي په هغه (جنت کې) تل تر تله.

تفسير: په ظاهر سره له دې نه د آخرت بدل يعنې جنّت مراد دی، چې هلته به قانتينو مؤمنينو ته دائمي خوښي او ابدي راحت ور په برخه کيږي.

وَّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۝۴

او چې وويروي هغه کسان چې وايي (له ډېره جهله) نيولی دی الله ولد.

تفسير: د الله تعالی لپاره د اولاد په تجويز کې له ګردو څخه وړاندې او سابق القدم «نصاری» دي، او لکه چې له احاديثو څخه ظاهريږي، له همدغو سره به د قرآن د عاملينو او حاملينو علاقه او سابقه تر قيامت پورې وي، بيا هم د الفاظو په عموم کې به ځينې هغه يهودي فرقې چې عُزير عليه السلام ته د الله ځوی يا ځينې هغه مشرکين چې «ملائکة الله» ته د الله لونې ويلې؛ هم داخل دي، ګواکې دلته د اولاد تجويز کوونکو کافرانو ته بالخصوص او نصاراوو ته په أخصّ الخُصوص سره تنبيه ورکړی شوی ده.

مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ وَّلَا لِاٰبَآئِهِمْ ؕ كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ؕ اِنْ يَّقُوْلُوْنَ اِلَّا كَذِبًا ۝۵

نشته دوی ته په دې خبره کې هيڅ علم، او نه پلرونو د دوی ته (څه علم شته)، لويه ده هغه خبره (د دوی) چې راووځي له خولې د دوی څخه، نه وايي دوی مګر دروغ (ډېر غټ).

تفسير: يعنې کوم تحقيق او علمي اصول د دوی په لاس کې نشته، او نه د دوی د پلرونو او نيکونو په لاسونو کې وو، چې د هغوی په عمياء تقليد سره داسې غټې خبرې له خپلو خولو څخه راوباسي.

فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ اِنْ لَّمْ يُؤْمِنُوْا بِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَسَفًا ۝۶

نو ښايي چې ته قتل کوې (وژنی) نفس (ځان) خپل پر وروستو (د ګرځېدو) د دوی (له تا نه) (يا په دوی پسې) که رانه وړې (دوی) ايمان په دې خبره (قرآن؛ نو ته ځان وژنې) له ډېره غمه.

تفسير: يعنې که دغه کافران قرآني خبرې نه مني؛ نو تاسې د دوی په چرت او غم کې خپل ځان مه کړوئ ! او مه ويلې کيږئ ! تاسې د تبليغ او دعوت فريضه اداء کړې او کوئ يې، که يې څوک نه قبلوي؛ نو تاسې لره نه ښايي چې خپل ځان دومره وکړوئ او دومره غمجن شئ !.

اِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْاَرْضِ زِيْنَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ اَيُّهُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ۝۷

بېشکه مونږ ګرځولي مو دي هر هغه څيز چې دی پر ځمکه زينت (ښايست رونق) لپاره د دې (ځمکې او اهل د ځمکې)، لپاره د دې چې ازموينه وکړو پر دوی چې کوم يو له دوی څخه ډېر غوره دی له جهته د عمل.

تفسير: يعنې د هغه د رونق په طرف منډې وهي، يا هغه پرېږدي او آخرت اخلي.

وَاِنَّا لَجٰعِلُوْنَ مَا عَلَيْهَا صَعِيْدًا جُرُزًا ۝۸

او بېشکه چې مونږ خامخا ګرځوونکي يو د هر هغه څيز چې پر دغه (ځمکه دی) ډاګ (صاف ميدان) وچ کلک.

تفسير: يعني يوه ورځ به دغه ګردې وني، وانبه، شينکي او نور د ځمکې موجودات ټولولی شي، او د ځمکې څخه تش تور ډاګ ډبر ميدان جوړيږي، هغه کسان چې د دې په ښايست او ډول سينګار خوښ او غوليږي، هغوی دې ښه وپوهيږي چې دغه زرق او برق، ډول او ډيل، پرق او پروق پاتې کېدونکی شی نه دی.

أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَهْفِ وَالرَّقِيمِ كَانُوا مِنْ آيَاتِنَا عَجَبًا ﴿٩﴾

آيا ګمان کوې ته (ای محمده !) د دې خبرې چې صاحبان د غار او د تختې وو دوی له دلائلو ځمونږ ډېر عجيبه.

تفسير: يعني د الله د عظيمه قدرت په لحاظ د ﴿أَصْحَابَ الْكَهْفِ﴾ قصه چې وروسته يې ذکر راځي، داسې کومه عجيبه او غريبه خبره نه ده چې يې له حده زياته عجيبه وګڼئ، د ځمکې، اسمان، لمر، سپوږمی، ستوري، اور، اوبه، او نورو شيانو پيدا کول، او د دوی ټينګ نظام قائمول، د ضعيف البنيان انسان فضيلت پر ګردو موجوداتو، بيا په انسانانو کې د انبياوو عليهم السلام رالېږل د دوی قليل او بې سرو سامانو ډلو پر لويو لويو متکبّرانو بريالی او فاتح کول، د خاتم الأنبياء محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم او د ده د رفيق ابو بکر صديق رضي الله تعالى عنه نجات د کفارو د مکر او فرېب څخه او د (ثور) په غار کې تر دريو ورځو پورې د دوی دواړو صحيح او سالم ساتل، او د کفّارو تعاقب او د غار (سمځې) تر خوله پورې راتلل او بيا نامراده او بې د مرام له نيله بېرته ګرځېدل، بالآخر د مسلمانانو هغه ډېرې وړوکی بې سر و سامان ډلې ته نه يواځې په «جزيرة العرب» بلکه په مشرق او مغرب کې په ډېر لږ مدّت کې غلبه، نصرت او برى په برخه کول، آيا دغو او د دوی په شان نور بېشماره شيان د ﴿أَصْحَابَ الْكَهْفِ﴾ له قصې څخه لږ حيرت او تعجب راوړونکي دي؟ !.

اصل دا دی چې يهودانو قريشو ته مشوره ورکړه چې د محمد صلى الله عليه وسلم څخه د امتحان او ازموينې په ډول دري سواله وکړي: (١) روح څه شی دی؟ (٢): د ﴿أَصْحَابَ الْكَهْفِ﴾ قصه څرنګه ده؟ (٣) د ذو القرنين قصه څه وه؟، د ﴿أَصْحَابَ الْكَهْفِ﴾ قصې ته دوی د عجيبتوب له حيثيته خاص اهميت ورکړی وو، نوځکه په دغه آيت کې دا ښوولې شوې ده چې د هغه دومره عجيبه نه ده لکه چې تاسې يې ګڼئ، د هغه ځنې ډېرې نورې عجيبې او غريبې د قدرت دلائل او نښې هم شته، وروسته د ﴿أَصْحَابَ الْكَهْفِ﴾ مجملاً بيا مفصّلاً بيان فرمايي.

وايي چې دغه څو ځلميان د (روم) د کوم ظالم او جبّار باچا په زمانې کې وو، چې د هغه اسم ځينو «دقيانوس» ښوولی دی، باچا ډېر سخت غالي بُت پرست وو، او په جبر او اکراه سره د بت پرستی په تعميم او اشاعت کې مصروف وو، عامو خلقو د تکليف او سختی او خوف او د څو ورځو دنيوي منافعو په طمع خپل مذاهب پرېښودل او بُت پرستي يې اختيار کړه، په دغه وخت کې د څو تنو هغو ځلميانو په زړونو کې چې د هغوی تعلّق د سلطنتي عمائدو سره وو، داسې خيال پيدا شو چې د يوه مخلوق له خاطره د خالق ناراضي نه ده پکار، او د دوی زړونه د الله تعالى له خشيته او د تقوى له نوره ډک وو، الله تعالى دوی د صبر او استقلال او د توکل او مېړانې له دولت څخه ماړه کړي وو، دوی د باچا په مخ کې ودرېدل، او په ډېر جسارت او مېړانې (بهادرى) يې دغسې ناري کړې: ﴿لَنْ نَدْعُوَ مِنْ دُونِهِ إِلَهًا لَقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا﴾ او د دغه خپل ايماني جرأت او استقلال د مظاهرې څخه يې ګرد ليدونکي او اورېدونکي سره مبهوت او متحيّر کړل.

باچا څه د دوی پر ځلميتوب رحم وکړ، او څه د نورو مشاغلو او ملکي مصالحو لامله د دوی د فوري وژلو څخه سترګې پټې کړې، او څو ورځې يې دوی ته مهلت ورکړ، څو دوی پخپلې دغې معاملې کې غور او نظر ثاني وکړي.

خو دغو ځلميانو داسې مشوره سره غوټه کړه، چې په داسې د فتنې په وخت کې چې مونږ د جنګ او د تشدّد له لاسه عاجزان شوي يو، او په هر حال کې ځمونږ د قدمونو د ښويېدلو وېره او خطره شته؛ نو مونږ ته به دغه مناسبه وي، چې ښار ته نژدې د غره په کوم غار کې پټ او منتظر اوسو، چې په مناسبه موقع کې بيا له هغه ځايه ووځو، نو يې دعاء

وکړه چې: «ای الله ! ته پخپل خصوصي رحمت سره ځمونږ کار راجوړ کړه ! او د رشد او هدایت په لارې د تللو ګرد انتظام مونږ ته وکړه !».

بالآخر دوی له ښاره ووتل، او په کوم نژدې غره کې يې پناه ونیوله، او له خپلو ملګرو څخه یو تن يې مأمور کړ، چې د لباس په تغییر سره کله ناکله ښار ته ورځه ! او ځمونږ د ټولو ضروریات او حوائج د ښار د حال او احوال سره راوړه ! او مونږ د هغه ځای له اخبارونو څخه مطلع کړه ! کوم سړی چې پر دغه کار مامور وو، هغه یوه ورځ اطلاع ورکړه چې نن په ښار کې رسماً ځمونږ تعقیب او پلټنه کېده، او ځمونږ اقارب اعزّه او خپلوان مجبور شوي وو، چې ځمونږ پته او سراغ وروښيي، دوی په همدغو مظاهرو کې وو، چې یو ناڅاپه الله تعالی پر دوی خوب طاري کړ، ویلې کیږي چې د حکومت سړو ډېر تلاش او پلټنه (لټون) وکړه؛ خو د دوی درک او سراغ يې ونه موند، او ستړي ستومانه کښاستل.

بالآخر د باچا له رایې سره سم د ښیښې پر یوه تخته د دې ځلمیانو نومونه او ممیّزه صفات او نور مناسب احوال ولیکل او په یو محفوظ ځای کې کښبود شو، څو تل د دولت اراکین، مامورین او راتلونکی نسل په دې خبردار وي، چې داسې د ځلمیانو یوه ډله په حیرت راوړونکي طریقې تښتېدلې ده، چې سره له ډېر لټولو د هغې ډلې هیڅ نښه او اثر نه دی پیدا شوی، ممکن دی چې وروسته له دې نه د هغو سراغ او پته پیدا او ځینې نور عجیب او غریب واقعات هم څرګند شي.

دغه ځلمیان پر کوم مذهب (دین) وو؟ په دغه کې اختلاف دی، ځینې وایي چې نصرانیان یعنې د مسیح علیه السلام د اصلي دین تابعان وو، لیکن ابن کثیر (رحمه الله تعالی) د قرائنو له مخې دې ته ترجیح ورکړې ده، چې د ﴿اَصۡحٰبَ الۡكَهۡفِ﴾ قصه د مسیح علیه السلام د زمانې څخه پخوانی قصه ده، و الله أعلم.

تنبیه: «رقیم» د غره کندې او سورې ته وایي، او «رقیم» د «مرقوم»په معنی هم راځي، یعنې لیکلی شوی شی.

إِذۡ اَوَى الۡفِتۡيَةُ اِلَى الۡكَهۡفِ فَقَالُوۡا رَبَّنَاۤ اٰتِنَا مِنۡ لَّدُنۡكَ رَحۡمَةً وَّهَيِّئۡ لَنَا مِنۡ اَمۡرِنَا رَشَدًا ﴿١٠﴾
فَضَرَبۡنَا عَلٰۤى اٰذَانِهِمۡ فِى الۡكَهۡفِ سِنِيۡنَ عَدَدًا ﴿١١﴾

یاد کړه هغه وخت چې رجوع وکړه هغو ځلمیانو (د وېرې د کفّارو) غار ته نو وویل دی: ای ربه ځمونږ ! راکړه مونږ ته له خپله نزده رحمت (چې پرې پټ شو له غلیمه «دښمنه») او تیار کړه مونږ ته له دې کاره ځمونږ (چې مفارقت د کفارو دی) هدایت. او کښبوده مونږ (پرده) پر غوږونو د دوی (چې هیڅ غږ يې نه اورېد او ویده پراته وو) په غار کې څو کاله په شمېر.

تفسیر: یعنې داسې يې پر غوږونو وټپول چې تر کلونو کلونو پورې په همغه سوري کې ویده پراته وو، او د دې خوا او هغې خوا له احواله له سره نه وو خبر، او نه کومه خبره د دوی غوږونو ته رسېده.

ثُمَّ بَعَثۡنٰهُمۡ لِنَعۡلَمَ اَىُّ الۡحِزۡبَيۡنِ اَحۡصٰى لِمَا لَبِثُوۡۤا اَمَدًا ﴿١٢﴾

بیا راپورته کړل مونږ دوی لپاره د دې چې ښکاره کړو چې کومه یوه له دغو دواړو ډولو (مختلفو په ځنډ کې) ښه حساب کوونکې ده د هغه چې دوی څه مدّت تېر کړی وو (په دغه غار کې).

تفسیر: له ډېرو کلونو څخه وروسته الله تعالی دوی ویښ کړل، څو ظاهر شي چې د اختلاف کوونکو په منځ کې کوم یو د دوی د نوم د مدّت صحیح اندازه ښوولی شي؟ ظاهر دی چې د داسې اوږده خوب څخه وروسته کله چې دوی ویښ شوي دي؛ نو په قدرتي طور سره پخپله د خوب کوونکي او ګردو لیدونکو په منځ کې راز راز خبرې سره مبادله کیږي، او ځینې يې مدّت لږ ښیي، او ځینې يې ډېر څرګندوي (ښکاره کوي)، یو به اقرار کوي، او بل به يې مستبعد

ګڼې تړې انکار کوي، نو دوی يې راوښې او دا يې وروښوده چې کوم يو جماعت سم له حقيقت سره سمې خبرې کوي؟ او واقعيت ته نژدې دي؟ او وروسته د دې حقيقت له پوهېدلو سره د «بعث بعد الموت» عُقده حل کولی شي؟ چې په هغه کې د هغې زمانې خلقو سره جګړې کولې.

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُمْ بِالْحَقِّ ۚ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى ﴿١٣﴾

مونږ قصه کوو تا ته خبر حال د دوی په حقه (رښتيا) سره، بېشکه دوی داسې ځلميان دي چې ايمان لري په رب خپل، او زيات کړي وو مونږ دوی له جهته د هدايته.

وَرَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَنْ نَدْعُوَ مِنْ دُونِهِ إِلَٰهًا لَقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا ﴿١٤﴾

او ټينګ تړلی دی مونږ پر زړونو د دوی (قوّت او صبر) کله چې پاڅېدل، نو وويل دوی: رب ځمونږ رب د اسمانونو او د ځمکې دی، له سره به عبادت ونه کړو بې له همغه الله د بل معبود (او که بل څوک مو په الوهيت سره وباله؛ نو) خامخا په تحقيق ويلی به وي مونږ هلته خبره خطا لويه دروغه.

تفسير: يعنې زړونه مو قوي کړي وو په قبول او اظهار د حق سره، او دوی مضبوط او ثابت قدم کېښود او خپله خبره يې صافه وويله: کله چې «رب» هغه دی؛ نو د بل چا معبود درول حماقت دی، «ألوهيت» او «ربوبيت» دواړه همده ته وړ (لايق) او مخصوص دي.

هَٰؤُلَاءِ قَوْمُنَا اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ آلِهَةً ۖ لَوْلَا يَأْتُونَ عَلَيْهِمْ بِسُلْطَانٍ بَيِّنٍ ۖ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ﴿١٥﴾

دا کسان قوم ځمونږ نيولي دي دوی بې له الله (نور باطل) معبودان، ولې نه راوړي دوی په (عبادت د باطلو معبودانو) کوم برهان سند ښکاره؟، نو څوک دی ډېر ظالم له هغه چا چې تړي پر الله دروغ (چې شريکان ورته دروي، بلکه لوی ظالم له ده څخه بل نه دی).

تفسير: لکه چې موحّدين د توحيد صاف صاف دلائل وړاندې کوي، که مشرکين هم پخپله دعوی کې رښتين وي؛ نو کوم واضح دليل ولې نه وړاندې کوي؟ که يې وړاندې کړي؛ نو له کومه به يې راوړي؟ دروغ پښه نه لري، له دې نه به لوی دروغ څه وي چې دوی د الله تعالی لپاره شريک دروي.

کله چې دقيانوس أصحاب الکهف ته دړې ورځې مهلت ورکړ، او دوی پخوا د تمامېدلو د دړې ورځو وتښتېدل؛ نو (يمليخا) چې مشر د دوی وو په منځ د لارې کې يې وويل خپلو ځينو نورو ځلميانو ته داسې:

وَإِذِ اعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ فَأْوُوا إِلَى الْكَهْفِ يَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ رَحْمَتِهِ وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِنْ أَمْرِكُمْ مِرْفَقًا ﴿١٦﴾

او کله چې په څنګ شوئ تاسې له دغو مشرکانو او له هغو (بُتانو) چې عبادت يې کوي دوی بې له الله؛ نو ځای ونيسئ تاسې هغه غار ته (او دېره شئ په کې)، خپور به کړي تاسې ته رب د تاسې له رحمته خپل او تيار به کړي تاسې ته له کار ستاسې اسباب د ګزران (او خوشالی).

تفسير: يعني «كله چې د مشرکانو له دينه مونږ ببل يو؛ نو په ظاهري ډول سره هم مونږ ته لازم دي، چې له هغوی څخه ببل اوسو، او کله چې د دوی له باطلو معبودانو څخه ګوښه شو؛ نو ښايي چې له هر طرفه وشکوو، او خاص خپل لوی الله جلّت عظمتُه په طرف رهي (لاړ) شو، او د هغه رحمت او تلطّف ته اميدواري ولرو»، پخپلو منځونو کې يې سره داسې مشوري وکړې، په پای کې لاړل او د غره په سمځې کې کښېناستل.

وَتَرَى الشَّمْسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَٰوَرُ عَن كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ وَهُمْ فِي فَجْوَةٍ مِّنْهُ ۚ ذَٰلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ ۗ مَن يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۖ وَمَن يُضْلِلْ فَلَن تَجِدَ لَهُ وَلِيًّا مُّرْشِدًا ﴿١٧﴾

او وينې به ته لمر کله چې راخيژي نو ميلان کوي له غاره د دوی ښې طرف ته، او کله چې لويږي؛ نو پرېږدي دوی (اوترې تېريږي) کين طرف ته، او دوی په ارت ميدان کې دي له دې غاره، دغه (مذکوره احوال د دوی) له دلائلو او نښو د الله دی، هر چا ته چې سمه صافه لاره وروښوده الله؛ نو همغه دی د سمې صافې لارې موندونکی، او هر څوک چې ګمراه يې کړي (الله)؛ نو له سره به نه مومې ته ده ته کوم ولي دوست لاره ښوونکی.

تفسير: يعني الله تعالى پخپل کامل قدرت سره دوی ته د داسې دېره ځای په لوري لار ښوونه وکړه چې هلته مأمون او مطمئن شول، او په آرامی او خوشالی سره پرېوتل، نه د ځای د تنګوالي څخه د دوی زړونه خفه وو، او نه لمر دوی ته څه ربړ او تکليف رسوه، د دې لامله چې د دغه سوري مخ د شمال په لوري او په هسې يوه وضع او هيئت سره واقع وه، چې د ضرورت په اندازه به لمر ورته رسېده، او بې د څه ضرر د رسولو څخه به تېرې وته.

﴿مَن يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ﴾ الآية ـ يعني ظاهري او باطني لاره ښوونه ګرد د ده په قبضه کې ده، وګورە څه مهال (وخت) چې ګرده دنيا سره ښويېدلې وه، «أصحاب الكهف» يې څرنګه د هدايت په لاره ټينګ او ثابت قدم کړل، او په ظاهري ډول يې هم څرنګه د يوه عجيبه سوري په طرف د دوی لار ښوونه وکړه.

وَتَحْسَبُهُمْ أَيْقَاظًا وَهُمْ رُقُودٌ ۚ وَنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَذَاتَ الشِّمَالِ ۖ وَكَلْبُهُم بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيدِ ۚ لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا ﴿١٨﴾

او ته به ګمان کوې په دوی (که چېرې يې ووينې) چې ويښ دي حال دا چې دوی ويده دي، او اړوو دوی په ښې اړخ او کين اړخ او سپی د دوی غځوونکی دی د دواړو څنګلو خپلو په خولې د غار کې، که چېرې ورپورته شې ته دوی ته او نظر واچوې پر دوی؛ نو خامخا مخ به وګرځوې ته له دوی څخه په تېښته او خامخا ډک به کړی شې ته له دوی نه له وېرې.

تفسير: وايي چې د دوی ستر ګې به د خوب په وخت کې هم خلاصې وې، او د دومره يو طويل خوب هيڅ يو اثر د دوی پر بدنونو نه ښکاره، نو ځکه هر چا به چې دوی ته کاته؛ نو داسې يې ګانه چې دوی ويښ دي، او الله تعالى دغو ويدو ځلميانو ته شان، هيبت او جلال وروبښه، او دوی دغه د هستوګنې ځای ته يې دومره دهشت او عظمت ورکړ چې هيچا به ورته نشو کتلی، او نه به ورنژدې کېدلی شو، څو خلق د هغه د ځای څخه نندارې جوړې نه کړي، او هلته بندارې ونه تړي، او دوی ناآرامه او بې هوسا (بې آرامه) نه کړي، د دوی پسې يو سپی هم رهي (روان) شوی وو، چې د دغو نېکانو اثر پر دغه سپي هم ورسېده، او تر سلهاوو کلونو پورې ژوندی پاتې شو.

وَكَذٰلِكَ بَعَثْنٰهُمْ لِيَتَسَآءَلُوْا بَيْنَهُمْ ؕ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ ؕ قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ
يَوْمٍ ؕ قَالُوْا رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ ؕ فَابْعَثُوْۤا اَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖۤ اِلَى الْمَدِيْنَةِ فَلْيَنْظُرْ
اَيُّهَاۤ اَزْكٰى طَعَامًا فَلْيَاْتِكُمْ بِرِزْقٍ مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ اَحَدًا ﴿١٩﴾ اِنَّهُمْ
اِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوْكُمْ اَوْ يُعِيْدُوْكُمْ فِيْ مِلَّتِهِمْ وَلَنْ تُفْلِحُوْۤا اِذًا اَبَدًا ﴿٢٠﴾

او همداسې (لکه چې ویده کړي وو مونږ أصحاب الکهف) ویښ کړه مونږ دوی چې پوښتنه وکړي پخپلو منځونو کې، نو وویل یو ویونکي له دوی نه چې: څومره مدّت مو تېر کړی دی؟ نو وویل (ورته دغو نورو چې) تېره کړې ده مونږ یوه ورځ یا یوه برخه د ورځې، وویل (نورو) چې رب ستاسې ښه خبر دی په هغه مدّت چې تېر کړی دی تاسې، نو ولېږئ تاسې یو (ملګری) خپل په دې سپینو زرو ستاسې چې دا دي دې ښار ته، نو ودې ګوري چې کوم یو له دغه (اهل د ښار) نه ښه پاکیزه دی له جهته د طعامه، نو رادې وړي تاسې ته رزق له هغه، او نرمي او زیرکي دې کوي (په معامله کې)، او نه دې خبروي خامخا په تاسې هیڅ یو هم. بېشکه دوی که خبردار (یا قادر) شي پر تاسې؛ نو سنګسار به کړي تاسې، یا به بېرته وګرځوي دوی تاسې په دین خپل کې، او له سره به خلاص نشئ تاسې (او ښه به ونه مومئ) په دغه وخت کې هیڅکله.

تفسیر: یعنې څرنګه یې چې پخپل قدرت سره دوی په داسې یوه اوږده خوب کې ویده کړي وو؛ همغسې یې دوی په مقرّر وخت کې راویښ کړل، کله چې پاڅېدل نو پخپلو منځونو کې یې سره په مذاکرو شروع وکړه، چې مونږ به څومره مدّت ویده شوي یو؟ ځینو وویل: «یوه یا نیمه ورځ»، یعنې ډېر لږ ویده شوي یو، بل وویل چې په دغه خو د الله تعالی علم ډېر ښه رسېږي چې مونږ څومره مدّت ویده شوي یو، اوس کار کوئ، یو سړي ته پیسې ورکړئ، او ښار ته یې ولېږئ چې له کوم دکان څخه حلال او طیّب طعام واخلي، او رایې وړي مګر دغه ضروري ده چې دغه سړی دې په ډېرې هوښیارۍ سره لاړ شي، او بېرته دې راشي او په نرمۍ او تدبیر سره دې ښایي معامله وکړي چې هیڅ یوه ښاري ته ځمونږ پته او نښه څرګنده (ښکاره) نشي، که نه لویه خرابي به راپېښېږي، که هغه ظالم باچا پر مونږ خبردار شي؛ نو مونږ به سنګسار کړي، یا به مونږ په جبر او اکراه سره له دغه حقّاني دین څخه واړوي، (العیاذ بالله) که داسې کومه واقعه راپېښه شوه؛ نو هغه اعلی کامیابي او فلاح چې مونږ یې غواړو له سره نه حاصلېږي، ځکه چې د حق دین څخه اوښتل اګر که په جبر او اکراه سره هم وي؛ د اولوا العزم مؤمنانو کار نه دی.

وَكَذٰلِكَ اَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوْۤا اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيْهَا ؕ اِذْ يَتَنَازَعُوْنَ
بَيْنَهُمْ اَمْرَهُمْ فَقَالُوا ابْنُوْا عَلَيْهِمْ بُنْيَانًا ؕ رَبُّهُمْ اَعْلَمُ بِهِمْ ؕ قَالَ الَّذِيْنَ غَلَبُوْا عَلٰۤى اَمْرِهِمْ
لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِمْ مَّسْجِدًا ﴿٢١﴾

او همداسې (لکه چې مو ویښ کړي وو دوی) خبر کړ مونږ (خلق) پر دوی باندې چې پوه شي (دغه د حشر منکران چې) بېشکه وعده د الله حقه ده، او بېشکه قیامت (چې دی) نشته هیڅ شک په (راتلو د) هغه کې، (او خبر کړل مونږ دغه خلق په أصحاب الکهف) کله چې جګړې کولې دوی په منځ خپل کې په کار خپل، نو وویل: (دغو خلقو یو بل ته) چې جوړه کړئ پر دوی یو بناء، رب د دوی ښه عالم دی په (احوال د دوی)، وویل هغو کسانو چې غالب وو په کار د دوی چې: خامخا جوړ به کړو مونږ هرومرو پر دوی باندې مسجد (چې لمونځ په کې وکړی شي).

تفسير: يوه له دوی ځنې پيسې واخيستې او ښار ته ننوت، خو د ښار ګرد شيان د ده په نظر کې پردي او غير متعارف ښکاره شول، په دغه مدّت کې څو قرنه تېر شوي وو، د ښار خلق د دغو پيسو د سکو د ليدلو څخه حيران شول، چې پر دې د کوم باچا نوم دی؟ او د کومې زمانې دي؟ او ګرد سره داسې وپوهېدل چې دغه سړي له کوم ځايه کومه قديمي خښه کړې خزانه موندلې ده، څو دغه خبره د باچا په غوږ کې ورسېده، او هغه همغه پخوانی ليکلي تخته وغوښته، چې پر هغه څو نومونه او مميزه صفتونه ليکلي شوي وو، او دغه هم په کې مسطور وو، چې دغه ځلميان يو ناڅاپه په دغه کال کې لادرکه او تري تم شول، له تحقيقه ثابته شوه چې دغه سړی د همغه مفقود الخبر ډلې څخه دی، په دغه وخت کې په دغه ښار کې د «بعث بعد الموت» په نسبت سخته جګړه نښتې وه، چا به ويل چې: د مړ کېدلو څخه وروسته بيا ژوندون نشته، چا به ويل چې: محض روحاني بعث دی او جسماني نه دی، څوک د روحاني او د جسماني د دواړو معادو قائل وو، د دې وخت باچا يو حق خوښوونکی منصف سړی وو، او غوښته يې چې له يو طرف کوم داسې نظير او مثال په لاس ورشي چې په هغه سره پوهول آسان شي، او عقلي استبعاد له منځه ورک شي، پاک الله دغه نظير ورپيدا کړ، بالآخر د آخرت منکران هم د دې حيرت راوړونکي ماجرى له ليدلو او اورېدلو سره په آخرت متيقّن شول، او دغې نظارې په خاص ډول سره د دوی پر طبائعو اثر وغورځاوه، او وپوهېدل چې په دې سره الله تعالى مونږ ته تنبيه راکړه، ځکه چې دغه قصه د دوهم ځلي بيا ژوندي کېدلو څخه له سره کمه نه ده.

تنبيه: ځينو د ﴿إِذْ يَتَنَازَعُونَ بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ﴾ مطلب داسې اخيستی دی، چې الله تعالى د «أصحاب الكهف» له حاله په هغه وخت کې خلق خبر کړي وو، نو ځکه د «أصحاب الكهف» په نسبت جګړو او مناقشو جريان درلود، چې هغه څو تنه ځلميان چې يو ناڅاپه سره ورک او تري تم شوي وو چېرې لاړل؟ چې د هغوی په نسبت له ډېرې اوږدې زمانې راهيسې داسې اورو چې راځي، ولې رانغلل؟دوی چېرته لاړل؟ د دوی نسل به چېرې منتشر شوی وي؟ تر اوسه پورې دوی نه دي ژوندي پاتې، او ضرور ګرد سره مړه او خاورې شوي دي، په دغه مسئله کې به ځينو يو شی او ځينو بل شی ويل، چې يو ناڅاپه الله تعالى د حقيقت له مخې پرده پورته کړه، او هغه ګرد اختلافات يې سره ورک کړل.

﴿فَقَالُوا ابْنُوا عَلَيْهِم بُنْيَانًا﴾ الآية ـ دغه نه دي معلوم چې وروسته له هغه «أصحاب الكهف» همغسې ژوندي پاتې شول؟ يا يې انتقال وکړ؟ که انتقال يې کړی دی څه مهال (وخت) وو؟ او که ژوندي پاتې دي تر کله؟ يا به تر کله ژوندي پاتې کيږي؟ په هر حال د هغه ښار خلقو چې دغه سوري ته نژدې په کوم مناسب ځای کې د يادونې په شان کوم عمارت جوړ کړی، چې له هغه ځنې زائرينو ته څه سهولت پېښ شي؛ نو په دغه کې به د آراوو اختلاف واقع شوی وي، چې څه قسم عمارت جوړ کړ شي، د دغو اختلافاتو تفصيلات خو پاک الله ته ښه معلوم دي، او دغه هم د ده په علم کې شته چې دغه تجويز د دوی له موت څخه وروسته وشو؟ يا پخوا له موته؟ يا د دوهم ځلي د خوب طاري کېدلو څخه وروسته؟ آيا خلق تر هغه سوري پورې رسيدلي دي؟ او د دوی په ملاقات يا زيارت مشّرف شوي دي؟ که نه؟ خو بيا هم هغو بارسوخو او بااقتدارو سړيو چې د «أصحاب الكهف» پر اسلامي دين وو داسې سره غوټه کړه چې دغه غار ته نژدې يو معبد تعمير شي، د أصحاب الكهف په نسبت برسېره پر دې چې پاخه موحدان او متقيان وو، ليکن هغه کسان چې پر دوی معتقدان شوي او عمارت يې جوړ کړی وو نصرانيان وو، ابو حيّان په «بحر محيط» کې د «أصحاب الكهف» د ځای د متعين کولو په نسبت متعدد اقوال نقل کړي دي، من شاء فليراجعه.

سَيَقُولُونَ ثَلَاثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ رَجْمًا بِالْغَيْبِ

ژر به وايي (يعقوبيه چې دوی) درې دي څلورم د دوی سپی د دوی دی، او وبه وايي (نسطوريه چې دوی) پنځه دي شپږم د دوی سپی د دوی دی، ويشتل په غيب سره، (دا ټولی وينا ګانی دي بی دليله).

تفسير: يعني سامعين به د «أصحاب الكهف» د قصې له اوربدلو څخه وروسته لكه چې د خلقو عادت دى اټكلي غشي ولي، يو به وايي چې دوى درې وو، څلورم د دوى سپى وو، بل به وايي چې دوى پنځه وو او شپږم به سپى نښيي، ليكن دغه ګرد اقوال داسې دي لكه چې څوك بې د نښې له ټاكلو څخه تيري (ګټې) وولي، ممكن دى د دغو مختلفو خبرو په ويلو كې برسېره په جهل، د رسول الله صلى الله عليه وسلم امتحان هم مقصود وي، چې وګورو محمد صلى الله عليه وسلم په دغه معامله كې څه فرمايي؟ ځكه احتمال لري چې يهودانو د هغو صحيح تعداد اوه ښوولى وي، چې د هغه په طرف لوى قرآن هم اشاره فرمايي:

وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ وَّثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ قُلْ رَّبِّيْٓ اَعْلَمُ بِعِدَّتِهِمْ مَّا يَعْلَمُهُمْ اِلَّا قَلِيْلٌ ۬ فَلَا تُمَارِ فِيْهِمْ اِلَّا مِرَآءً ظَاهِرًا ۪ وَّلَا تَسْتَفْتِ فِيْهِمْ مِّنْهُمْ اَحَدًا ﴿٢٢﴾

او وبه وايي (مؤمنان په اخبار د محمد چې دوى) اوه دي او اتم د دوى سپى د دوى دى، ووايه (اى محمده ! دوى ته)رب ځما ښه علم لري په شمېر د دوى، نه پوهيږي په (شمېر د) دوى مګر لږ (د خلقو)، نو جګړه مه كوه (اى محمده !) په باب د دوى كې مګر جګړه ښكاره، او فتوى مه غواړه په باب د دغو كې له دغو (كتابيانو) څخه له هيڅ يو (ځكه چې ته پخپله پرې خبر يې په وحيه سره).

تفسير: د عدد په معلومولو پورې كوم اهم مقصود نه دى متعلق، هومره خبره چې الله تعالى راښودلې ده، له هغې څخه د زيات تحقيقاتو پسې لوېدل او هغومره ترديد چې الله تعالى فرمايلى دى، له هغه څخه زيات ترديد اوجګړې نښلول؛ فضول دي.

ابن عبّاس رضي الله تعالى عنه فرمايي: زه د هغو قليلو كسانو څخه يم (چې هغوى د قرآني سياقه معلوم كړى دى چې) أصحاب الكهف هم دغه اوه تنه دي، ځكه چې الله تعالى هغو پخوانيو دواړو اقوالو ته ﴿رَجْمًۢا بِالْغَيْبِ﴾ وفرمايه، او درېم قول سره يې ونه فرمايل، علاوه پر دې د بيان اسلوب هم بدل شوى دى، په پخوانيو دواړو جملو كې «عطفيه واو» نه وه، او په درېيم كې شته، او د ﴿وَّثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ﴾ په عطف سره له راوړلو څخه ګواكې دغه خبرې ته زور وركول مقصود دي، چې د دغه قول قائل په پوره بصيرت او وُثوق سره د واقعې له تفصيله واقف دى، ځينو د دې په تأييد كې دا هم ويلي دي چې: پخوا له دې نه له ﴿قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ﴾ څخه د يوه تن قول راخر ګند (ښكاره) شو، او له ﴿قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا﴾ الآية ـ څخه پرته له هغه قائل څخه د دريو تنو نورو قائلينو پته ولګېده، له ﴿قَالُوْا رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ﴾ الآية ـ څخه برسېره په دوى د دريو تنو قائلينو ثبوت هم په لاس راځي، او په دې ډول اقلا لږ تر لږه ښايي دوى اوه تنه وي، چې سپى ترې مستثنى پاتې دى.

وَلَا تَقُوْلَنَّ لِشَايْءٍ اِنِّيْ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا ﴿٢٣﴾ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ۚ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ اِذَا نَسِيْتَ وَقُلْ عَسٰٓى اَنْ يَّهْدِيَنِ رَبِّيْ لِاَقْرَبَ مِنْ هٰذَا رَشَدًا ﴿٢٤﴾

او مه وايه له سره په هيڅ باب كې چې ببشكه زه كوونكى يم د دغه كار سبا مګر (متّصل ورسره ووايه اى محمده !) كه اراده فرمايلي وي الله، او يادوه رب خپل كله چې دې هېر شي، او ووايه (اى محمده ! دوى ته) ښايي چې سمه صافه لار وښيي ماته رب ځما ډېرې نژدې ته له دې نه له جهته د لارښوونې (او نېكه لاره).

تفسير: د «أصحاب الكهف» قصه په تاريخي كتابونو كې له نادراتو څخه ليكلې شوې وه، او هر سړى ترې نشو خبر ېدى، مشركينو د يهودانو په لمسون له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دغه سوال وكړ، چې له دغه پوښتنې څخه د دوى مقصود امتحان وو، ځمونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم وعده وفرمايله چې سبا به يې دروښيم، ځكه متيقن وو چې جبرئيل عليه السلام به راځي او زه به ترې معلومات اخلم، او دوى ته به يې ووايم، خو جبرئيل عليه السلام تر پنځلسو

ورځو پورې رانغی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېر خفه او غمجن شو، مشرکین په خندا او مسخرو لګیا شول، بالآخر د الله تعالی له جانبه دغه قصه ورته ولېږله شوه، او په پای (آخر) کې يې نصیحت هم ورعلاوه شو، چې وروسته له دې نه د هیڅ یوې خبرې په نسبت بې د ﴿إِنْ شَآءَ اللهُ﴾ څخه نه ښایي چې وعده وفرمایي، که کوم وخت له تانه هېره شي؛ نو هر کله چې دې په یاد راشي ﴿إِنْ شَآءَ اللهُ﴾ ووایه !، او امیدوار شه چې الله تعالی به ستا درجه له دې نه لا زیاته کړي، یعنې هیڅ شی هیڅکله به له تاسې هېر نشي.

وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ ثَلَاثَ مِائَةٍ سِنِينَ وَازْدَادُوا تِسْعًا ﴿٢٥﴾

او مدّت تېر کړی وو دغو (ځلمیو) په غار کې درې سوه کاله (شمسي) او زیات کړي وو پرې دوی نهه (قمري کلونه نور هم).

تفسیر: یعنې د شمسي په حساب پوره درې سوه کاله په هغه غار کې ویده وو، او په قمري سره (۹) کاله نور زیات شو.

قُلِ اللهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا لَهُ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَبْصِرْ بِهِ وَأَسْمِعْ

ووایه (ای محمده ! دوی ته) الله ښه عالم دی په مقدار د هغه مدّت (چې دوی ځنډ (تأخیر) کړی وو په هغه کې)، خاص همده لره دي پټ (اسرار) د اسمانونو او د ځمکې، څه ښه لیدونکی دی الله، او څه ښه اورېدونکی دی الله.

تفسیر: یعنې مؤرخین د دوی د ویدېدلو او د بیا ویښېدلو مدّت راز راز بیانوي، خو له ګردو څخه صحیح او صواب همغه ده چې الله تعالی يې ښیي، ځکه چې د اسمان او د ځمکې د ګردو پټو اسرارو علم هم له ده سره شته، او هیڅ یو شی د ده له سترګې څخه نشي تېروتی.

مَا لَهُمْ مِنْ دُونِهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا ﴿٢٦﴾

او نشته چېرې دوی ته بې له ده نه هیڅ دوست، او نه شریکوي په حکم (قضاء) خپل کې بل هیڅوک.

تفسیر: یعنې همغسې چې د ده علم محیط دی؛ د ده قدرت او اختیار هم پر ګردو حاوي دی، همغسې چې د ﴿لَهُ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ په علم کې هیڅوک له ده سره مل او شریک نه دي، د قدرت په اختیاراتو کې هم هیڅوک له ده سره مل او شریک نشي کېدی.

وَاتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنْ كِتَابِ رَبِّكَ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ وَلَنْ تَجِدَ مِنْ دُونِهِ مُلْتَحَدًا ﴿٢٧﴾

او ولوله (ای محمده ! دوی ته) هغه څه چې وحي کړی شوې ده تا ته له کتابه د رب ستا، نشته بدلوونکی د کلماتو د دغه (الله)، او له سره به نه مومې ته غیر له دغه (الله) څخه هیڅ ځای د پناه (که قصد يې وکړې).

وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ

او صبر کړه نفس خپل له هغو کسانو سره چې بولي (عبادت کوي) د رب خپل په سبا (اول د ورځې) او بېګا (آخر د ورځې یعنې هر کله)، غواړي دوی مخ د الله تعالی.

تفسير: يعنې د ده د لقاء، ليدلو او د هغه د رضاء د حصول په شوق کې په نهايت اخلاص سره تل په عباداتو کې مشغول اوسيږي، مثلاً ذکر کوي، قرآن لولي، پر خپلو لمونځونو مداومت کوي، د حلالو او حرامو تميز کوي، د خالق او د مخلوق د دواړو حقوق پېژني، اګر که د دنيوي حيثيته دوی معزّز او مالدار نه دي، لکه په لويو اصحابو کې په دغه وخت کې عمّار، صُهيب، بلال، ابن مسعود، خَبّاب، سلمان او نور رضوان الله تعالى عليهم أجمعين، نو داسې مخلصين مؤمنين له خپل صحبت او مجالست څخه تل مستفيد وګرځوه، او د هيڅا په ويلو او اورولو سره دوی د خپل مجلسه څخه مه بېلوه !.

وَلَا تَعْدُ عَيْنٰكَ عَنْهُمْ تُرِيْدُ زِيْنَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ

او نه دې تيريږي (وړاندې دواړه) سترګې ستا له دوی نه، چې غواړې ته زينت (ښايست) د دې ژوندون لږ خسيس.

تفسير: يعنې د دغو غريبانو او مات زړو او بې وځلو (کمزورو) مخلصينو مؤمنينو څخه له سره خپلې سترګې مه اړوه ! او لويو لويو غټو متکبرانو دنيادارانو ته په دغه مقصد مه ګوره ! چې د دوی د مسلمان کېدلو څخه به اسلامي دين ډېر ښه رونق او ښايست مومي، ځکه چې اسلامي اصلي عزّت او رونق په مادي خوشحالۍ او د سپينو او سرو زرو په مسکوکاتو نه دی مضبوط، بلکه په ايمان او تقوی او اعلی درجه ښو اخلاقو سره قائم دی.

وَلَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ وَكَانَ اَمْرُهٗ فُرُطًا ۝٢٨

او اطاعت مه کوه (مه اوره خبره) د هغه چا چې غافل کړی دی مونږ زړه د ده له ذکره ځمونږ او متابعت يې کړی دی د هوا خپلې، او دی کار د هغه تجاوز (له حقه او غورځول د حق شاته، او تجاوز له حدود الله).

تفسير: يعنې د هغو کسانو په خبرو تاسې له سره غوږ مه ږدئ او مه يې اورئ چې د هغوی زړونه له حقه ذاهل او په دنيوي نشو کې مست او لا يعقل او د الله تعالى له ياده بيخي غافل دي، او تل د خپل نفس د خوښۍ او غوښتنې پسې مائل او رهي (روان) او لګيا دی، د الله تعالى په عبادت کې تکبّر، لويي، ځانمني (خودنمايي)، هوا پرستي، تقدم او تعالِي د دوی (رواج) او دستور دی، اګر که دوی ظاهراً ډېر بډايان (دولتمن)، د جاه او ثروت خاوندان هم وي.

په رواياتو کې راغلي دي چې د قريشو ځينو صنديدو او غټانو ځمونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک ته وويل: «تاسې د خپلو شاوو خوا څخه دغه فقراء، مسکينان، خواران، غريبان چې ګرد سره اوپړهګان (خوار) دي، لرې کړئ ! څو مونږ غټان، مشران، لويان او سرداران تاسې سره کينو»، ګواکې مسلمانانو ته اوپړه او کفّارو ته يې بډای او سردار وويل، ممکن دی چې د محمد صلى الله عليه وسلم په مبارک زړه کې دغه خبره تېره شوي وي، چې د دغو غريبانو په بېلولو کې د لږ څه مدّت لپاره څه حرج او مضائقه ده؟ دوی خو پاخه مسلمانان دي، مصلحت ته به ګوري، نه به خفه کيږي، او دغه غټان به په دغه وسيله سره اسلام قبلوي، نو په دغه مناسبت دا آيت نازل شو، چې تاسې له سره د دغه متکبّرانو دغه خبرې مه اورئ !، ځکه چې د دوی دغه غوښتنې بيخي چټې او بېکاره دي، په دوی کې د حقيقي ايمان د قبلولو رنګ او استعداد نشته، نو بيا محض د موهومې فائدې لپاره د مخلصينو مسلمانانو د خاطر احترام ولې پرېښودی شي؟.

وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ ۟ فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ وَّمَنْ شَآءَ فَلْيَكْفُرْ ۚ

ووايه (ای محمده ! دوی ته، اسلام او قرآن) حق دی له رب ستاسې، پس هر څوک چې اراده (د ايمان) وکړي؛ نو ايمان دې راوړي ! او هر څوک چې اراده (د کفر) وکړي؛ نو کافر دې شي.

تفسير: يعني د الله تعالى له جانبه رښتيا رښتيا خبرې اورولې شوي دي، الله تعالى د چا د منلو او نه منلو هيڅ پروا نه لري، هر څه نفع يا نقصان چې پيښيږي؛ هغه به يواځې ستاسې وي، منونکي او نامنونکي له هر يوه سره د هغه خپل عمل د لارې مل دى.

إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ۚ وَإِن يَسْتَغِيثُوا۟ يُغَاثُوا۟ بِمَآءٍ كَٱلْمُهْلِ يَشْوِى ٱلْوُجُوهَ ۚ بِئْسَ ٱلشَّرَابُ ۖ وَسَآءَتْ مُرْتَفَقًا ﴿٢٩﴾

بېشكه چې مونږ تيار كړى مو دى لپاره د ظالمانو اور، چې چاپېر شوي دي له دوى پردې د هغه، او كه فرياد وكړي (دوى له تندې) نو فرياد به يې واخيستى شي (په ورکولو د داسې) اوبو (سره) لكه زوې (يا د تېلو څټه) چې وريتوي به مخونه، بد څيز د څښلو دي (دغه زوې)، او بد دى (دغه اور ځاى د آرام يا) له وجې د انتفاع.

تفسير: يعني د ګرمۍ له شدّته به تږي كيږي، نو «العطش ! العطش !» نارې به وهي، نو د تېلو تلچټ (خيرى، پاتې) يا د زوو په شان اوبه دوى ته ورکولى كيږي، چې د سخت تودوالي او د تندې له سببه د دوى خوله او كولمې به سره ټول وريتې او تناكې وهي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا ﴿٣٠﴾

بېشكه هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى او كړي يې دي ښه (عملونه) بېشكه مونږ نه ضايع كوو اجر (ثواب) د هغه چا چې ډېر نېك وي له جهته د عمل.

أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ جَنَّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهِمُ ٱلْأَنْهَٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا مِّن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ ۚ نِعْمَ ٱلثَّوَابُ ۚ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ﴿٣١﴾

دغه (مؤمنان چې دي) شته دوى ته جنتونه د تل هستوګنې چې بهيږي له لاندې (د ونو او مانيو) د دوى (څلور قسمه) ويالې، په لاس كولى به شي دوى ته په دغه جنت كې وښې له سرو زرو، او اغوندي به دغه (جنتيان) جامې زرغونې له نريو وربښمو او له پيرې، پنډ (غټو) وربښمو، تكيه كوونكي به وي په دغه جنتونو كې پر تختونو باندې، څومره ښه بدل دى (دا جنتونه او نعمتونه)، او څومره ښه دي (دا جنتونه) ځاى د آرام.

تفسير: ښايي چې د جنتي جامو (كالیو) مخ د نريو وربښمو او استر يې د پرېږو (غټو) وربښمو څخه وي، كما يُفهم من قوله تعالى: ﴿بَطَآئِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ﴾ (٢٧ جزء د الرحمن سورت (٥٤) آيت (٣) ركوع)، يا دواړه به سره ښه ښه استعماليږي، والله أعلم، په «موضح القرآن» كې دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې: سره زر او ربښمين كالي نارينه وو ته په جنت كې ور رسيږي، هر څوك يې چې دلته اغوندي؛ هلته به يې نه اغوندي.

جنتيانو به پر دغو نعمتونو سربېره پر ښو چپركټو او پالنګونو تكيه لګولي په نهايت عزّت او احترام سره به ناست وي.

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا رَّجُلَيْنِ جَعَلْنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ مِنْ أَعْنَابٍ وَّحَفَفْنٰهُمَا بِنَخْلٍ وَّجَعَلْنَا بَيْنَهُمَا زَرْعًا ﴿٣٢﴾

او وښيه بيان کړه ته دوی ته يو مثال (د کفّارو او مؤمنانو هغه) دوه سړي، چې ګرځولي (ورکړي وو) مونږ يو له دې دواړو ته دوه باغونه له انګورو، او پټ کړي وو مونږ دا باغونه په خرماوو سره، او پيدا کړی وو مونږ په منځ د دې (دواړو باغونو) کې کښت (فصل).

تفسير: دغه يې د غني کافر او فقير مؤمن مثال بيان وفرمايه، چې د هغه په ضمن کې د دنيا بې ثباتي، د کفر او تکبّر بد انجامي، او د ايمان او تقوی پر مقبوليت باندې تنبيه ده، دغه دواړه سړي چې د هغوی مثال بيان شوی دی، په واقعي ډول سره موجود وو؟ يا محض د تفهيم لپاره دغه مثال فرض کړی شوی دی، د علماوو په دغه مورد کې دوه قوله دي، او د تمثيلو فائده په هر حال کې حاصله ده.

د دغو ياد شوو باغونو په چارچاپير د کجورو (خرماوو) ونې کښېنولې شوې دي، او د دواړو باغونو په منځ کې ځمکه د زراعت لپاره تخصيص ورکړی شوې ده، خو غله او مېوه ګرد تيار له همغه باغ څخه حاصل اخلي.

كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ اٰتَتْ أُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِمْ مِّنْهُ شَيْـًٔا ۙ وَّفَجَّرْنَا خِلٰلَهُمَا نَهَرًا ﴿٣٣﴾

دې دواړو باغونو ورکول به يې مېوې خپلې (پوره) او نه به يې کولو ظلم (کموالی) له محصوله خپله هيڅ قدر، او بهولې وه مونږ په منځ د دې دواړو باغونو کې ويالې.

تفسير: يعنې داسې نه وو چې يو باغ به ښه وده او ښه حاصل ورکولو، او بل نه ورکولو او بې حاصل او بې ودې پاتې وو، يا په يوه کې ډېرې ونې وې، او په بل کې کمې.

وَّكَانَ لَهٗ ثَمَرٌ ۚ فَقَالَ لِصَاحِبِهٖ وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ أَنَا أَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَّأَعَزُّ نَفَرًا ﴿٣٤﴾

او وو ده ته (نورې) مېوې، پس وويل دغه (کافر) هغه (مؤمن) ملګري خپل ته حال دا چې هغه ورسره خبرې کولې (په افتخار سره) چې زه زيات يم له تا نه له جهته د مال، او ډېر عزتناک يم له جهته د سړيو.

تفسير: يعنې مال، دولت، ملاتړ، سړي ما سره له تا نه زيات دي، که زه د شرک او کُفر په اختيارولو کې په باطل وی؛ نو دومره مال، دولت، او هوسايي (آرام) به ولې ځما په برخه کېده؟ د ده د شرک ثبوت له دې نه په لاس راځي، چې د آفت د رسېدلو څخه يې وروسته په تأسّف او ارمان سره وويل: ﴿يٰلَيْتَنِي لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّيٓ أَحَدًا﴾، معلوميږي چې د هغه غريب ملګری چې پوخ موحد وو، د شرک د بطلان اظهار، او له شرک څخه د توبې کولو نصيحت به يې ورته کولو، چې د هغه په ځواب کې يې داسې ورته وويل چې: زه له تا نه په مال، اولاد، سړي، ملاتړ او هر څيز کې زيات يم، نو څرنګه به يقين کوم چې زه پر باطل او تا غوندې مفلس او ناداره به په حق وي؟.

وَدَخَلَ جَنَّتَهٗ وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ قَالَ مَآ أَظُنُّ أَنْ تَبِيدَ هٰذِهٖٓ أَبَدًا ﴿٣٥﴾ وَّمَآ أَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً وَّلَئِنْ رُّدِدْتُّ إِلٰى رَبِّيْ لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنْقَلَبًا ﴿٣٦﴾

او ننوت دی باغ خپل ته حال دا چې دی ظالم وو پر ځان خپل (په سبب د فخر، تکبر او کفر)، ويې ويل چې: زه نه کوم ګمان چې هلاک (خراب) به شي دغه باغ (ځما) هيڅکله، او نه کوم زه

ګمان په قیامت چې قائم (واقع) به شي، او قسم دی خامخا که بوتلی شم رب خپل ته (پس له بیا ژوندون)؛ نو قسم دی چې هرومرو به مومم خامخا غوره له دې باغ څخه مرجع.

تفسیر: یعنی دی په شرک کې مبتلا وو، د کبر او غرور په نشو د ده دماغ ډک وو، نورو ته به یې په سپکه سره کتل، او حقیر به یې ګڼل، او د الله تعالی پر قدرت او جبروت به یې نظر نه وو، او نه په دې پوهیده چې وروسته به یې انجام څه کیږي؟ همدغه باغ د ده جنت وو چې هغه به یې خپل ابدي خیر ګڼلو، ده فکر کولو چې اوس خو مې ژوندون په آرام سره تیریږي، او ګرد انتظامات مې داسې مکمّل کړي دي چې ځما تر ژوندانه پورې د دغو باغونو د تباه کیدو او خرابیدلو کومه ظاهري اندیښنه نشته، پاتې شوه د بعث بعد الموت قصه؛ نو اول زه یقین نه لرم چې د مړ کیدلو څخه وروسته د هلوکي بڅرکي ته بیا دوهم ځلي نوی ژوند په برخه کیږي؟ او مونږ به د پاک الله په مخ کې وړاندې کیږو، لیکن که همداسې وشو؛ نو یقیناً ماته به له دې نه ښه او بهتر سامان هلته راورسیږي، که ځمونږ دغه حرکات د الله تعالی خوښ نه وی؛ نو په دغه دنیا کې به یې ولې دومره وسعت او راحت را په برخه کولی؟ ګواکې د دې دنیا راحت او هوسایي (آرام) د هغه جهان په خوښۍ او هوسایۍ باندې دلیل دی، چې زه به هلته هم مزې او چرچې کوم.

قَالَ لَهُ صَاحِبُهُ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَكَفَرْتَ بِالَّذِي خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّاكَ رَجُلًا ﴿٣٧﴾ لَّٰكِنَّا۠ هُوَ اللَّهُ رَبِّي وَلَا أُشْرِكُ بِرَبِّي أَحَدًا ﴿٣٨﴾

وویل (دغه کافر) ته (مؤمن) ملګري د ده حال دا چې دغه مؤمن خبرې اترې کولې له دغه کافر سره: آیا کافر شوې پر هغه (ذات) چې پیدا کړی یې ته (په اول کې) له خاورې، بیا یې له نطفې، بیا یې برابر کړې ته سړی (روغ په اندامونو). لیکن زه وایم شان دا دی چې الله رب ځما دی، او نه شریکوم زه له ربه خپله سره هیڅوک.

تفسیر: یعنې هغه الله تعالی چې ستا اصل آدم علیه السلام یې له بې جانه خاورې څخه، بیا ته یې د ځمکې د حاصلاتو له ځلاصې او له یوه ځاځکي ناځیزه اوبو څخه پیدا کړی یې، او ژوندون یې دربخښلی دی، او روحاني او جسماني قوّتونه یې درکړي دي، او لوی غټ انسان یې درڅخه پیدا کړی دی، نو آیا ته له دې نه انکار لرې، چې هغه به دې وروسته له مرګه بیا ژوندی کوي؟ یا دغه درکړی نعمت به له تا نه بېرته نشي اخیستی؟ ځما عقیده خو داسې نه ده، بلکه زه پوره یقین لرم چې هم هغه لوی ذات یواځې ځمونږ رب دی، د ده په الوهیت کې بل هیڅوک شرکت نه لري، او د ده د حکم او ارادې په مقابل کې هیڅوک هیڅ نشي ویلی او کولی، او نه خپله سا اخستی شي.

وَلَوْلَا إِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَاءَ اللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ

او ولې نه په هغه وخت کې چې ننوتې باغ خپل ته، ولې دې داسې نه ویل: هغه چې اراده وفرمایي الله (هغه کیږي)، نشته قوّت (هیڅا لره په هیڅ کار مګر په توفیق) د الله.

تفسیر: یعنې مال د الله تعالی نعمت دی، خو د غرور، تکبّر، او ځانمنۍ (خودنمایۍ) او د کُفر ویلو څخه آفت نازلیږي، لازم او ښه خو داسې وو چې د باغ د داخلیدو په وخت دې د ﴿مَا أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِ أَبَدًا﴾ په ځای ﴿مَا شَاءَ اللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ﴾ ویلې وی، یعنې د هر هغه څیز چې الله تعالی اراده وفرمایي؛ عطا کوي یې، څه زور او قوّت چې په مونږ کې شته؛ هغه د ده له امداد او اعانته راحاصل دی، که الله تعالی اراده وفرمایي؛ نو په یوه شپه کې هغه ګرد سلب او بېرته یې اخلي، په روایاتو کې راغلي دي، هر مهالې (وخت) چې انسان پخپل کور کهول او نور ځای کې په خوښۍ، آرام سره ځان مومي؛ نو همدغه لفظ دې وویي: ﴿مَا شَاءَ اللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ﴾

إِنْ تَرَنِ أَنَا أَقَلَّ مِنْكَ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٣٩﴾ فَعَسَىٰ رَبِّي أَنْ يُؤْتِيَنِ خَيْرًا مِنْ جَنَّتِكَ وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا
حُسْبَانًا مِنَ السَّمَاءِ فَتُصْبِحَ صَعِيدًا زَلَقًا ﴿٤٠﴾ أَوْ يُصْبِحَ مَاؤُهَا غَوْرًا فَلَنْ تَسْتَطِيعَ لَهُ طَلَبًا ﴿٤١﴾

که ته وینې ما چې زه لږ یم له تا نه د جهته د ماله او بچو. پس (امید لرم چې ژر دی چې) رب ځما راکړي ما ته (په دنیا او په آخرت کې) بهتره له باغ ستا، او چې ولېږي پر دغه (باغ ستا) تندر له (طرفه د) اسمانه، پس سبا ته وګرځي (باغ ستا) ډاګ میدان ښوی (چې ښوییږي پرې سړی) بې زرغونه. یا سبا ته وګرځي اوبه د دې باغ وچې ډوبې پس له سره به نه توانېږې دې ډوبو اوبو لره په لټولو سره.

تفسیر: یعنې یوه توده بوړبوړکی (ګرد باد) والوځي یا بل کوم سماوې آفت نازل شي چې ستا د دغه تکبّر او غرور د نتائجو په سزا کې ستا دغه باغ ډاګ ډېر او سپېره او تړې صاف میدان جوړ کړي، یا د دغې ویالې اوبه وچې شي، او بیا سره له ډېر زیار (محنت) ایستلو او کوښښ اوبه په کې ونه بهیږي.

وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِ فَأَصْبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ عَلَىٰ مَا أَنْفَقَ فِيهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَيَقُولُ
يَا لَيْتَنِي لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّي أَحَدًا ﴿٤٢﴾

او چاپېر کړی شو په انواعو د مېوو د هغه (باغ یا سړي یعنې هلاک شو)، پس وګرځېد په وخت د سبا کې چې اړه وه یې څټ او مخ د ارغویو خپل (یا مړل یې لاسونه او ورغوي خپل)، (له خپګانه) پر هغه مبلغ چې لګولی وو پر دغه باغ، حال دا چې دغه باغ لوبدلی وو پر ځیلو (منا ګانو د تاکو کورو) خپلو، او وایي: ای کاشکې ما نه وی نیولی شریک رب خپل سره هیڅوک (څو مې دغه باغ نه وی وران شوی).

تفسیر: شاه صاحب لیکي: «آخر د ده پر باغ باندې هم هغسې وشوه چې د دغه ښه سړي له خولې ځخه وتلي وو، په شپه کې سماوي آفت د اور په صورت راغی، او ګرد باغ یې وسوځوه، او د ایري ډېرې یې تړې جوړه کړه، مال یې لګولی وو د پنګې (رأس المال) د تزیید لپاره، خو پنګه او ګټه اصل او فرع دواړه یې له لاسه ووتل»، د باغ خاوند په ژړا او انګولا سر شو، مګر:

څه په کار ده اوس ژړا او انګولا «««««««» لوښې مات او غوړي توی شو په بیدیا.

او دغه افسوس او ندامت هم د الله تعالی له وېرې نه وو، بلکه تش د دنیوي ضرر رسېدلو په بناء وو.

وَلَمْ تَكُنْ لَهُ فِئَةٌ يَنْصُرُونَهُ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَمَا كَانَ مُنْتَصِرًا ﴿٤٣﴾

او نه وه ده ته کومه ډله چې مدد یې کړی وی له ده سره (په دفع د آفت کې) غیر له الله، او نه وو دی پخپله مددګار د خپل ځان (په دفع د هلاک کې).

هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلَّهِ الْحَقِّ هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا وَخَيْرٌ عُقْبًا ﴿٤٤﴾

په دې وخت کې ګرد ولایت اختیار خاص الله لره حق دی، الله خیر (غوره) دی له جهته د ثواب او خیر (غوره) دی له جهته د عاقبته.

تفسير: يعني د هر عمل هر بدل چې دی ورکړي؛ هغه درست دی، دلته او هلته په هر ځآی کې د همده واک او اختیار چلیږي، او هیڅوک هیڅ طاقت او توان نه لري، چې د ده په حکم او فیصله کې څه مداخله وکړي، یا څه ګوتې په کې ووهي.

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ فَاَصْبَحَ هَشِيْمًا تَذْرُوْهُ الرِّيٰحُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا ﴿٤٥﴾

او بیان کړه دغو (خلقو) ته مثال د دې ژوندون لږ خسیس (په تازګۍ او سرعت د زوال کې) په مثل د هغو اوبو چې نازلې کړي دي مونږ هغه اوبه له (طرف د) اسمانه، نو یو بل سره ګډوډ شي په سبب د دې (اوبو) سره زرغونه د ځمکې، نو سبا ته وګرځي (دغه زرغونه) وچه کلکه ماته ماته چې الوځوي یې بادونه، او دی الله پر هر څیز باندې توانا قادر (چې ځینې د هغو انشاء او افناء دي).

تفسير: یعنې د دنیا د دغه عارضي پسرلي او د فاني او سریع الزوال ښایست او سینګار مثال داسې وګڼئ چې پر وچه او مړه ځمکه د باران اوبه ولویږي، او هغه یو په یو تکه شنه او ژوندی شي، او پر ګڼو شینکیو او ونو ښایسته شي، او مختلفې ترکودې(نباتات) ځنې خارج او مخلوط او ګډه وډه زرغونتیا په کې پیدا شي، مګر څو ورځې وروسته هغه تک زیړ واوړي، او په وچدلو او رژېدلو باندې شروع وکړي، بالآخر په یوه وخت ګرد سره لو او قطع او پرې او وربېل شي، او بیا ټوټه ټوټه او بوس بوس کړی شي، او په هوا کې والوځولی شي، د دنیا د سترګو غولوونکی او ناپوهان تېرایستونکی ښایست او سینګار همداسې وګڼئ، چې د څو ورځو له مخې ډېر ښکلی او زړه وړونکی په نظر راځي، بالآخر ذرې ذرې او په هوا کې والوځي، او ګرد سره لرې او پرې شي، او ډاګ ډېر صاف میدان ترې پاتې شي، لکه چې وروسته په ﴿وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْاَرْضَ بَارِزَةً﴾ کې اشاره کړی شوې ده.

اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ اَمَلًا ﴿٤٦﴾

مال (د دنیا) او ځامن (چې په کې اخروي مفاد نه وي) زینت (رونق) ښایست د دې ژوندون لږ خسیس دی، او باقي پاتې کېدونکي نېک (عملونه) خیر غوره دي په نزد د رب ستا له جهته د ثوابه او (خیر) غوره دي له جهته د امید.

تفسير: یعنې وروسته له مرګه مال او اولاد او نور هیڅ په کار نه راځي، او یواځې هغه نېک کارونه په کار راځي چې د هغو اثر یا ثواب مستقبل ته پاتې کېدونکی وي، په حدیث کې دغه کلمات طیبات:)سبحان الله والحمد لله ولا إله إلا الله والله أكبر، ولا حول ولا قوة إلا بالله(له الباقیات الصالحات څخه فرمایلي شوي دي، دغه محض د مثال په ډول دی، که نه ګرد (ټول) حسنه اعمال په دې کې داخل دي، په «موضح القرآن» کې دي: ﴿وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ﴾ دا دي چې د داسې یوه علم ښوونه وکړي چې جاري وي، یا کومه نېکه طریقه وچلوي، یا مسجد، یا کوهی، یا سرای، یا باغ، یا کومه مزرعه وقف کړي، یا خپل اولاد ته ښه تعلیم او تربیه ورکړي، او وروسته له خپله دغه صالح ولد پرېږدي، نو دغه ګرد داسې ښه اعمال دي، چې پر هغو باندې د الله تعالی له جانبه ښه بدل موندل کېدی شي، او انسان پرې عمده توقّعات قائمولی شي، د دنیا پر فاني او زائلې خوشالی طویل او عریض امیدونه ترل د عقل او هوش کار نه دی.

وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْاَرْضَ بَارِزَةً ۙ وَّحَشَرْنٰهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ اَحَدًا ﴿٤٧﴾

او (یاد کړه) هغه ورځ چې روان به کړو غرونه او ګورې به ته (ای انسانه !) ځمکه ښکاره (صاف میدان)، او راجمع به کړو دوی (یعنې خلق) نو پرې به نه پرېږدو له دوی نه یو تن هم (نه له اولینو او نه له آخرینو).

تفسير: يعني كله چې قيامت راشي؛ نو د غرونو په شان سخت مخلوق هم له خپله ځايه الوځي، بلكه دغه لوى او درانه غرونه هم لكه ټكولى شويو وړيو غوندې په هوا كې سره ګرځي او الوځي، الغرض دغه ګردې لوړې او ژورې به سمې برابرې او ځمكه به له يوه سره تر بله سره پورې صاف هوار ميدان شي.

وَعُرِضُوا عَلَىٰ رَبِّكَ صَفًّا لَّقَدْ جِئْتُمُونَا كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ بَلْ زَعَمْتُمْ أَلَّن نَّجْعَلَ لَكُم مَّوْعِدًا ﴿٤٨﴾

او وړاندې به كړى شي دوى په رب ستا صف صف (او وبه ويلى شي دغو صفوفو ته): خامخا په تحقيق راغلئ تاسې مونږ ته لكه چې پيدا كړي وئ مونږ تاسې ړومبى ځلې (له خپلې موره)، بلكه ګمان كولو تاسې (اى منكرينو د بعث) چې وبه نه ګرځوو مونږ تاسې ته ځاى او وخت د وعدې.

تفسير: د بعث منكرينو ته به د تقريع او توبيخ په ډول وويلى شي، چې تاسې خو قيامت او نورې ايماني خبرې چې (بېكاره) او دروغ ګڼلې، نو نن تاسې هغه ګرد دنيوي ساز سامان او اثاثه چېرې پريښې؟ او دغسې لوڅ لغړ چېرې درومئ؟.

وَوُضِعَ الْكِتَابُ فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَا وَيْلَتَنَا مَالِ هَٰذَا الْكِتَابِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً إِلَّا أَحْصَاهَا ۚ وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا ۗ وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا ﴿٤٩﴾

او كېښودلى به شي كتاب (أعمالنامې په لاسونو د خلقو كې) پس ګورې به ته ګناهګاران ويريدونكي له هغه نه چې په كې (ليكلي) دي (له ګناهونو)، او وايي به اى هلاكه ځمونږ (راشه دغه دې وخت دى) څه حال دى د دې اعمالنامې (ځمونږ) چې نه پرېږدي (ګناه) وړه او نه لويه، مګر چې حساب كړې يې دي هغه (ټولې)، او وبه مومې دوى هغه څيز چې كړى وي (په دنيا كې په خپل مخ كې) حاضر، او نه كوي ظلم رب ستا پر هيڅا (چې كومه ګناه يې نه وي كړې او ويې ليكي).

تفسير: يعني د هر يوه اعمالنامې ورګولى كيږي، دوى به په هغه كې د خپلو اعمالو فهرست (نوم ليك) ولولي، او مجرمين به له خپلو ګناهونو سخت ويريږي، او وايي به الله پوهيږي چې نن څرنګه سختې سزاوې رارسيږي؟ په دغه اعمالنامه كې به يې د ذرې ذرې عمل تر سترګو لاندې وي، او هره يوه وړه او لويه نيكي او بدي به په دغه اعمالنامه كې مندرجه او ليكلې مومي.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ ۖ كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِ ۗ أَفَتَتَّخِذُونَهُ وَذُرِّيَّتَهُ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِي وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ۚ بِئْسَ لِلظَّالِمِينَ بَدَلًا ﴿٥٠﴾

او (ياد كړه) هغه وخت چې وويل مونږ پرښتو ته چې سجده وكړئ تاسې (تعظيمًا) آدم ته پس سجده وكړه (ټولو) مګر (ونه كړه سجده) ابليس، وو دى (اصلاً) له پيريانو پس ووت له امره د رب خپل (په ترك د سجدې)، آيا پس نيسئ تاسې ابليس او اولاده د دغه دوستان (چې خبره يې منئ) غير له ما، حال دا چې دي دغه (شياطين) تاسې ته دښمنان، بد دى (ابليس) ظالمانو ته بدل (له الله چې شيطان مني او رحمان نه مني).

تفسير: راجح همدا ده چې ابليس د پيريانو له نوعې وو، ده په عبادت کې ترقي وکړه، او د پرښتو په ډله کې شامل شو، نو ځکه کوم حکم چې پرښتو ته د سجود وشو؛ هغه ته هم وشو، په دغه وخت کې د ده اصلي طبيعت او سرکشي او غرور د طينت ښکاره شو، او له ډېره تکبّره د الله تعالى د حکم منلو څخه يې غاړه وغړوله، او د آدم په مخ کې سجده کول يې خپل د شان کسر وګڼله، تعجب دى چې نن د آدم اولاد د خپل رب په ځاى هغه ازلي دښمن او د ده اولاد او أتباع ځرنګه خپل رفيق ملګري خير غوښتونکي او دوست دروي؟ آيا له دې نه به بل کوم ظلم او بې انصافي څه وي؟ دغه قصه پخوا له دې نه هم په څو ځايونو کې بالتفصيل تېره شوې ده، دلته د هغې له تذکرې څخه دغه تنبيه مقصود دى، چې د فاني دنيا په ډول او سينګار مغرور ېدل او د آخرت څخه غافل کېدل فقط د شيطان په تحريک او تسويل سره کيږي، ځکه چې شيطان غواړي چې مونږ بيا خپل هغه اصلي او آبائي وطن (جنّت) ته ببرته لاړ نه شو.

تنبيه: ابن کثير (رحمه الله) ځينې روايات نقل کړي دي، چې په هغو کې د ابليس اصل د ملائکو له نوعې څخه ښوولى شوى دى، او ليکلي يې دي چې د دغو رواياتو غالبه حصه له اسرائيلياتو څخه ده، چې ښايي وروسته له ډېره فکره او نظره په احتياط سره ومنلى شي، او له هغو څخه اکثر شيان خو يقيناً دروغ دي، ځکه چې لوى قرآن بالتصريح د هغه تکذيب کوي، وروسته له هغه ابن کثير (رحمه الله) په ډېرو متينو الفاظو سره د اسرائيلياتو په نسبت څه کلام کړى دى، چې د لوستلو او په ياد لرلو قابل دى، چې دلته يې مونږ د تطويل له خوفه نشو داخلولى.

مَآ أَشْهَدتُّهُمْ خَلْقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَلَا خَلْقَ أَنفُسِهِمْ وَمَا كُنتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّينَ عَضُدًا ﴿٥١﴾

نه دي حاضر کړي ما دغه (شياطين) پيدا کولو د اسمانونو او د ځمکې ته، او نه پيدايښت د ځانونو د دوى ته، او نه يم زه نيونکى د ګمراه کوونکو مټ بازو (مددګار، يعنې له شياطينو مرسته نه غواړم په هيڅ شي کې، نو ولې تاسې يې امر حکم منئ؟).

تفسير: يعنې د ځمکې او اسمان د پيدا کولو په وخت کې مونږ دغه شياطين نه وو رابللي چې راځئ ځما کار وګورئ چې ښه دى، که څه نقص په کې شته؟، الغرض له دوى ځنې د تکوين او ايجاد په عالم کې هيڅ مشوره نه ده اخيستى شوې، او نه مدد ترې طلب کړى شوى دى، بلکه د ځمکې او اسمان د پيدايښت په وخت کې خو له سره پخپله دوى هم موجود نه وو، او پخپله د دوى د پيدايښت په وخت کې هم ترې پوښتنه نه ده شوې چې ته ځرنګه پيدا کړى شې؟.

وَيَوْمَ يَقُولُ نَادُوا شُرَكَآءِيَ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُم مَّوْبِقًا ﴿٥٢﴾

او (ياد کړه) هغه ورځ چې وبه وايي (الله مشرکانو ته) چې ناړې کړئ شريکانو ځما ته هغه چې ګمان کولو تاسې (د معبودانو پر هغو) پس وبه بولي دوى هغوى، نو ځواب به ورنه کړي دوى ته، او وبه ګرځوو مونږ په منځ د دوى کې ځاى د هلاک (دوزخ).

تفسير: يعنې هغه چې تاسې له ما سره شريکان درولي وو؛ هغوى ته ناړې کړئ، څو د دې مصيبت په وخت کې له تاسې سره مدد او کومک وکړي، خو په دغه وخت کې د رفاقت او دوستى کړى شکيږى ويلي کيږي (او د دوستى ټول اسباب غوڅيږي)، او د خپلوى دغه چلو صاف به له اوبو څخه وځي، ځرنګه چې دوى به يو بل ته له سره نژدې کېدى هم نشي، نو يو له بل سره به مدد او مرسته په څه ډول سره رسولى شي، د دغو عابدينو او معبودينو په منځ کې به د اور يو عظيم او وسيع خندق حائل وي.

وَرَاَ الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ فَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مُّوَاقِعُوْهَا وَلَمْ يَجِدُوْا عَنْهَا مَصْرِفًا ﴿٥٣﴾

او وبه ګوري مجرمان (مشرکان) اور پس يقين به يې راشي په دې چې په تحقيق دوی لويدونکي دي په دغه (اور د دوزخ) کې، او نه به مومې دوی له دغه (اوره) ځای د په ځنګ کېدلو.

تفسير: يعنې په اوله ابتداء کې به لږ څه د مغفرت او بخښنې امید لري، ليکن همدغه چې په جهنّم باندې د دوی سترګې ولګيږي، او جهنّم دوی خپل ځان ته ورکش کړي؛ نو پوره يقين به يې راشي، چې اوس هرومرو زه په دغه اور کې لوېږم، او د تېښتې هيڅ يوه لاره ماته نه ده پاتې، او نه خپله لار له دغه اور څخه بل لوري ته پيدا کولی شم.

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لِلنَّاسِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ۭ وَكَانَ الْاِنْسَانُ اَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا ﴿٥٤﴾

او خامخا په تحقيق مکرر بيان کړي دي مونږ په دې قرآن کې خلقو ته د هر قسم مثل (له جهته د عبرت)، او دی انسان زيات له هر شي څخه له جهته د جدل (جګړې او خصومت په باطله کې).

تفسير: يعنې لوی قرآن په څه څه مختلفو عنواناتو او قسم قسم دلائلو او امثله وو سره رښتيا رښتيا خبرې پوهوي، مګر انسان داسې جګړه کوونکی دی، چې په صافه او سمه خبره کې هم کږې وږې خبرې پيدا کوي، او د بې موردو حجّتونو او دلائلو د راوړو څخه لاس نه اخلي، او تل جنګ او جګړه کوي، کله چې په خبرو او جګړو سره څه ونشي؛ نو پر مهمل او بېکاره چتي فرمايشونو باندې لاس پورې کوي، چې هغه شی او دغه شی راوښيه؛ نو زه به يې ومنم.

وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا اِذْ جَاۗءَهُمُ الْهُدٰى وَيَسْتَغْفِرُوْا رَبَّهُمْ اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ اَوْ يَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا ﴿٥٥﴾

او نه دي منع کړي دا خلق له دې نه چې ايمان راوړي کله چې راغی دوی ته هدايت (رسول او قرآن) او (له دې نه چې) بخښنه وغواړي له رب خپل؛ مګر (دې خبرې) چې راشي دوی ته هغه طريقه د ړومبنيو (خلقو چې هلاک د دوی وو) يا راشي دوی ته عذاب مخامخ.

تفسير: يعنې د دغه ضد او عناد له ليدلو څخه ويلی شو چې د داسې عظيم الشأن قرآن د هدايت د رارسېدلو څخه بعد دوی خپل د ايمان نه راوړلو او توبه نه ايستلو لپاره هيڅ کوم معقول دليل او عذر نه لري، نو اوس د حق په منلو کې ولې ځنډ کوي؟ اوس د څه شي په انتظار کې دي؟ پرته له دې نه چې د پخوانيو اقوامو په شان الله تعالی دوی په کُلّي ډول سره سپېره او تباه کړي، او که يې تباه نه کړي نو اقلا د الله تعالی د عذاب مختلف صورتونه د دوی د سترګو په مخ کې ودرول شي، هکذا يُفهم من تفسير ابن كثير (رحمه الله) وغيره.

وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۚ وَيُجَادِلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ وَمَآ اُنْذِرُوْا هُزُوًا ﴿٥٦﴾

او نه ليږو مونږ رسولان مګر زيري ورکوونکي (مؤمنانو ته په نعيم سره) او ويروونکي (کُفّارو ته په جحيم سره)، او جګړې کوي هغه کسان چې کافران شوي دي په باطله سره لپاره د دې چې ورک او لرې کړي په دې سره حق رښتيا خبره، او نيولي دي آيتونه (د قرآن) ځما او هغه شيان چې (پرې) ويرولي شوي وو دوی مسخره.

تفسير: يعنې په دروغو جګړه يې نښلولې، او کاږه بحثونه يې غوښتل چې د حق غږ ښکته کړي، او د دروغو په زور د رښتيا قدم وښويوي، خو داسې به له سره نه کيږي، او د الله تعالى له کلام سره مسخرې کوي، او ملنډې پرې وهي، کله چې دوی د الله تعالى له کلامه وېروی شي؛ نو پرې خاندي او مسخرې کوي.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ۚ

او څوک دی ډېر لوی ظالم له هغه چا چې پند ورکړی شوي دي ده ته په آيتونو د رب د ده، پس وګرځوي مخ له هغه (فکر په کې ونه کړي او پند ترې وانخلي) او هېر کړي هغه عملونه چې وړاندې لېږلي لاسونو د ده (چې کفر او معاصي دي).

تفسير: يعنې کله له هېرې هم داسې يو خيال ورپيدا نشو چې د تکذيب الحق او استهزاء او تمسخر هغه ذخيره چې دوی وړاندې لېږي؛ د هغه سزا به څه وي؟.

إِنَّا جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَنْ يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا ۖ وَإِنْ تَدْعُهُمْ إِلَى الْهُدَىٰ فَلَنْ يَهْتَدُوا إِذًا أَبَدًا ﴿٥٧﴾

بېشکه مونږ ګرځولي مو دي پر زړونو د دوی پردې لپاره د دې چې پوه نشي پر دغه -قرآن- او (ګرځولی مو دی) پر غوږونو د دوی کوڼوالی، او که ته راوبولې دوی په طرف د سمې لارې؛ پس له سره هدايت نه مومي دوی په دغه وخت کې هيڅېرې.

تفسير: يعنې د دوی د جدال بالباطل او استهزاء بالحق له سببه مونږ د دوی پر زړونو پرده غورځولې ده، او غوږونه مو ورته داسې تپلي او بند کړي دي؛ چې اوس له سره حق پرې نشي اوربدلی، او که د انجام او عاقبت په طرف فکر وکړي؛ نو څرنګه به کولې شي، د داسې بدبختانو څخه له سره دغه هيله او توقع نشي کېدی چې پر لاره راشي.

وَرَبُّكَ الْغَفُورُ ذُو الرَّحْمَةِ ۖ لَوْ يُؤَاخِذُهُمْ بِمَا كَسَبُوا لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ ۚ بَلْ لَهُمْ مَوْعِدٌ لَنْ يَجِدُوا مِنْ دُونِهِ مَوْئِلًا ﴿٥٨﴾

او رب ستا ډېر بخښونکی څښتن (خاوند) د رحمت دی، که نيولې وی (الله دغه کفّار په دنيا کې) په سبب د هغو ګناهونو چې کوي يې دوی؛ نو خامخا ژر به يې رالېږلی وو دوی ته عذاب (په دنيا کې هم)، بلکه شته دوی ته ځای (يا وخت) د وعدې چې له سره به ونه مومي دوی غير له الله پناهي (ځای د تښتې).

تفسير: يعنې د دوی اعمال خو داسې دي چې د عذاب په لېږلو کې ښايي يو ساعت هم تأخير او ډيل واقع نشي، مګر د الله تعالى حلم او کرم د دوی فوراً تباه کولو څخه مانع دی، او پخپل عمومي رحمت سره تر يو خاص حد پورې ترې تيريږي، او ډېر سخت مجرم ته هم فرصت او موقع ورکوي، څو هر وخت چې وغواړي له خپلو بدو اعمالو څخه توبه وکاږي، نو د هغه تېر ګناهونه بخښلي کيږي، او د ايمان راوړلو په سبب د عظيمه وو نعمتونو مستحق ګرځي.

وَتِلْكَ الْقُرَىٰ أَهْلَكْنَاهُمْ لَمَّا ظَلَمُوا وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِمْ مَوْعِدًا ﴿٥٩﴾

او دغه (اهل د) کليو (چې دي) هلاک کړل مونږ دوی هر کله چې ظلم يې اختيار کړ، او مقرره کړې وه مونږ لپاره د دوی يوه نېټه (معلومه).

تفسير: يعني د عاد او ثمود خرابو او ويجاړو کليو ته وګورئ چې د هغوی واقعات مشهور او معروف دي، کله چې دوی ظلم او تېری وکړ؛ نو څرنګه پخپل معيّن وخت کې سره تباه او برباد کړل شو؟ همداسې تاسې ته هم وېره پکار ده، چې په موعوده وخت کې تاسې ته د الله تعالى له عذابه هيڅېرې د پناه ځای او نجات په لاس نه درځي.

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَاهُ لَا أَبْرَحُ حَتَّىٰ أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾

او (ياد کړه) هغه وخت چې وويل موسى ځلمي (خادم) خپل ته چې تل به ځمه تر هغه پورې چې ورسېږم ځای د يوځای کېدلو د دواړو سيندونو ته، يا به ګرځم ډېرې زمانې.

تفسير: پاس ذکر شوي وو چې مغرورو کافرانو، مفلسان مخلصان مسلمانان حقير ګڼل، او رسول اکرم صلى الله عليه وسلم ته به يې ويل چې: دوی مه پرېږدئ چې له تاسې سره کښيني، څو مونږ له تاسې سره کښينو، د هغه په نسبت يې د دوو کسانو قصه اورولې، بيا يې د دنيا مثال او د ابليس خرابېدل د کبر او غرور لامله بيان کړل، اوس د موسى عليه السلام او د خضر عليه السلام د قصې ذکر کوي، چې د الله تعالى خاص بندګان اګر که له نورو ځنې افضل او بهتر هم وي؛ خو بيا هم دوی خپل ځان افضل او بهتر نه ګڼي، او کله چې په سهو او تېروتلو سره ځان غوره وګڼي؛ نو د الله تعالى له جانبه دوی ته تنبيه او تأديب ورکول کيږي.

په حديث شريف کې راغلي دي چې موسى عليه السلام خپل قوم ته يوه ورځ ډېر مؤثر او خورا (ډېر) ښه پند او نصيحتونه فرمايل، يوه سړي له دوی څخه پوښتنه وکړه چې: «يا موسى عليه السلام ! آيا د ځمکې په مخ کې به له تاسې څخه بل کوم لوی عالم مونده شي؟»، موسى عليه السلام وفرمايل: «نه»، دغه ځواب اګر که په واقع کې صحيح وو، ځکه چې موسى عليه السلام د أولوالعزمو انبياوو څخه وو، او ښکاره ده چې په دغه زمانه کې د شرعيه وو علومو په اسرارو کې د ده د علم څخه د بل هيڅا علم زيات نه وو، ليکن دغه ادّعا د پاک الله په دربار کې غير مرغوبه (ناپسنده) واقع شوه، اګر که مراد يې صحيح وو، بيا هم د ځواب د عنوان له عمومه داسې ظاهر ښه چې د ځمکې په مخ کې من کل الوجوه دی خپل ځان «أعلم الناس» ګڼي.

د الله تعالى مرضي دا وه چې دغه ځواب به يې د ده پر محيط علم محول کولو، مثلاً داسې به يې ويل چې: د الله تعالى مقرّب او مقبول بندګان ډېر دي، له ګردو څخه فقط همغه عليم او خبير خبر دی او بس، نو دلته وحي پرې نازله شوه، چې په هغه ځای کې چې دوه سيندونه سره يو ځای ګډيږي؛ د هغه سره نژدې ځمونږ داسې يو بنده شته چې هغه سره داسې علم شته چې له تا سره نشته.

په هر حال موسى عليه السلام غوښتنه وکړه چې ماته د هغه پوره نښه او سراغ وښوولی شي؛ څو زه هلته لاړ شم، او څه علمي استفاده وکړم.

حکم صادر شو چې ته د ده په لټولو پسې ووځه ! او يو وريت کړی ماهي (کب) له ځانه سره واخله ! هر چېرې چې هغه وريت کړی کب در څخه ورک شو؛ نو وپوهېږه چې ځمونږ هغه بنده همغلته موجود دی، ګواکې له مجمع البحرين به چې يوه وسيع قطعه ترې مرادېده شي؛ همدغه ځای مراد دی، چې د هغه د تعيين لپاره همدغه علامه مقرّر فرمايلې شوې ده.

موسى عليه السلام سم له همدغه هدايته په سفر شروع وکړه، او خپل ملګري خادم ته يې وويل چې: «پر دغه (کب) پاملرنه وکړه ! زه به تل مزل وهم څو د مقصود منزل ته ورسېږم، فرض يې کړه که کلونه او قرن هم تېر شي؛ زه بې د دغه مقصد له حصوله له مسافرته لاس نه اخلم».

تنبيه: له ځلمي څخه مراد يوشع عليه السلام دى، چې په ابتداء کې د موسى عليه السلام خاص خادم وو، او بيا د ده په حضور کې (نبي) او وروسته د موسى عليه السلام خليفه شو.

فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾

بيا کله چې ورسېدل ځاى د يوځاى کېدو په مابين د دواړو سيندونو کې هر کړ دواړو ماهي خپل، نو ونيوله (دې ماهي) لاره خپله په بحر کې (په شان د) سرنګ (کوڅه).

تفسير: هلته ورسېد او د لويې تيرې (ګټې) په څنګ چې ترې لاندې چينه بهېده؛ موسى عليه السلام ويده شو، يوشع عليه السلام وليده چې هغه وريت کړى ماهي باذن الله ژوندى شو، او په يو عجيبه طريقه سره په سيند کې چې د سرنګ په شان به يې لاره ځان ته جوړوله روان شو، او هلته په اوبو کې د الله تعالى په قدرت د يوه تونل (سوپ يا طاق) په شان دالان ښکاره شو، يوشع د دې وضعيت د ليدلو څخه متحيّر او متعجّب شو، او غوښتل يې څه مهال (وخت) چې موسى عليه السلام ويښ شي؛ دغه قصه ورته ووايي، او دغه پېښه ورته وښيي.

موسى عليه السلام ويښ شو، نو سمدلاسه ودرېد، او په تګ يې پيل وکړ، الله تعالى خبر چې د موسى عليه السلام د ويښيدلو او رهي (روان) کېدلو په وخت کې يوشع عليه السلام په کوم خيالاتو کې ډوب تللى وو، چې د هغه ماهي د ژوندي کېدلو د پېښې قصه يې هېره شوه، په رواياتو کې راغلي دي کله چې موسى عليه السلام يوشع عليه السلام ته د هغه ماهي د ساتلو په نسبت تأکيدات کول؛ يوشع عليه السلام له خولې دا خبره ووته چې د يوه ماهي ساتنه دومره لويه خبره نه ده چې ته پرې دومره تأکيدونه کوې، لهذا ده ته هم تنبيه ورکړه شوه چې انسان ته پکار دي چې په ډېر وړوکي کار کې هم پر خپل ځان بې د الله تعالى له فضله تکيه او اعتماد ونه کړي !.

فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾

نو کله چې تېر شول (له مجمع البحرين څخه) وويل (موسى) خپل ځلمي ته راوړه مونږ ته سباناری (خوراک) ځمونږ، په تحقيق پېښه شوه مونږ ته له دغه سفره ځمونږه ډېره سختي.

تفسير: موسى عليه السلام پخوا له دې په دغه سفر کې نه وو سترى شوى، څه مهال (وخت) چې د مطلب ماهى د ده له لاسه خوشې شو؛ نو هلته ورته پخپل تګ کې ستوماني ورمحسوسه شوه.

قَالَ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ وَمَا أَنْسَانِيهُ إِلَّا الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ ۚ وَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ ۖ عَجَبًا ﴿٦٣﴾ قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ ۚ فَارْتَدَّا عَلَىٰ آثَارِهِمَا قَصَصًا ﴿٦٤﴾

وويل (ځلمي) آيا وليد (خبر شوې) کله چې ځاى ونيوه مونږ هغې لويې تيرې ته (چې د چينې په څنګ کې وه)؛ نو بېشکه ما هېر کړ (بيان د حال د) ماهي، او هېره نه کړه له مانه دغه (پېښه) مګر شيطان چې ياد کړم هغه (تاته)، او ونيوله (دغه ماهي) لاره خپله په بحر کې ډېره عجيبه. وويل (موسى) همدغه (ورکول او هېرول د ماهي) هغه څه دي چې وو مونږ چې طلب کول مو، پس بېرته راوګرځېدل دواړه پر همغو قدمونو خپلو قدم په قدم.

تفسير: غالباً هلته به له پخوا څخه کومه زياته لاره نه وه وهلې شوې، نو ځکه دوى د خپلو قدمونو پر نښو بېرته ستانه (واپس) شول.

فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ اٰتَيْنٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا وَعَلَّمْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿٦٥﴾

پس ومونډل دوی دواړو یو بنده (خضر) له بندګانو ځمونږ چې ورکړی وو مونږ ده ته رحمت له نزده خپله، او ښوولی مو وه ده ته له جانبه خپله یو ډول علم، (چې موسی علیه السلام ته هغه علم نه وو).

تفسیر: بنده خضر علیه السلام وو، چې الله تعالی دی په خپل خصوصي رحمت سره پاللی وو، او له علمه یې وافره حصه ورعطاء فرمایلې وه، په دې کې اختلاف دی چې خضر علیه السلام رسول ومنلی شي؟ یا نبي؟ یا د ولي درجه ورته ومنله شي؟ د داسې مباحثو فیصلې په دې ځای کې نشي کېدی، خو بیا د دې احقر رجحان په دغه جانب دی چې دی نبي تسلیم کړی شي، او لکه چې د ځینو محققینو خیال دا دی: هغه انبیاء چې سره له نوي شریعت نه دي راغلي؛ هغوی ته هم دومره تصرّف او اختیار عطاء کیږي، چې د ځینو خصوصیه وو معاملو پر بناء د مستقل شریعت د کوم عام تخصیص یا د مطلق تقیید یا له عامه ضابطې د ځینو جزئیاتو استثناء وکړی شي.

همداسې خضر علیه السلام ته هم جزئي امتیازات حاصل وو، و الله أعلم، په هر حال موسی علیه السلام له خضر علیه السلام سره ملاقي شو، او وروسته له سلام او متعارف کلام څخه خضر علیه السلام د موسی علیه السلام د دغه سفر د سبب پوښتنه وکړه، موسی علیه السلام د خپل د دغه راتګ سبب وروښود، خضر علیه السلام وویل: «ای موسی علیه السلام ! بېشکه چې الله تعالی ستا تربیت فرمایلی دی، خو خبره دا ده چې د الله تعالی له طرفه یو کوم علم چې ماته رابخښلی شوی دی؛ په دغه مقدار تاته نه دی درکړی شوی، او کوم علم چې تاته درکړی شوی دی؛ په هغه مقدار ماته نه دی راکړی شوی، وروسته له دې نه یوه چرچنه یې ولیده چې له دغه سیند څخه یې اوبه څښلې؛ نو خضر علیه السلام موسی علیه السلام ته وویل چې: «ځما او ستا بلکه د ټولو مخلوقاتو د علم نسبت د الله تعالی د علم په مقابل کې همداسې دی لکه چې د دغه لوی لوی سیندونو د اوبو په مقابل کې یې هغه څاڅکي اوبه چې دغه چرچنه یې پخپلې دغې وړوکې منبو کې سره څښي، دغه هم محض د تفهیم لپاره وو، که نه د متناهي او د غیر متناهي نسبت د لوی سیند او د څاڅکي سره بیخي نسبت نه لري، او په دغسې شیانو سره هغه څه مشابهت لري».

قَالَ لَهٗ مُوْسٰى هَلْ اَتَّبِعُكَ عَلٰٓى اَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا ﴿٦٦﴾

وویل دغه (خضر) ته موسی: آیا زه تابع شمه ستا په دې شرط سره چې وښیي ته ماته له هغه علمه چې ښوولې شوې ده تاته ښه لاره.

تفسیر: یعنې که اجازه دې وي؛ نو څو ورځې به له تاسې سره اوسېږم، او د دغه مخصوصه علم څخه به لږ څه شی در څخه زده کړم.

قَالَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٦٧﴾ وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلٰى مَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ خُبْرًا ﴿٦٨﴾

نو وویل (خضر موسی ته) چې بېشکه ته له سره به ونه کړی شې طاقت له ما سره د صبر. او څرنګه به صبر وکړې ته په هغه کار چې نه وي کړې احاطه تا په هغه کار له جهته د علم (او پوهې).

تفسیر: خضر علیه السلام د موسی علیه السلام د مزاج او د نورو خصوصیاتو د تخمین او اندازه کولو څخه وروسته پر دغه خبره پوهېدلی وو، چې دی له ما سره نشي اوسېدی، ځکه چې خضر علیه السلام مأمور وو چې د کونیه وو واقعاتو د جزئي علم له حاصلولو څخه وروسته موافق له هغه سره عمل وکړي، او موسی علیه السلام چې د کوم علم

حامل وو، د هغوی تعلّق له تشریعیه وو قوانینو او کلیاتو سره وو، بناء علیه په هغو جزئیاتو کې چې د عوارضو او خاصه وو خصوصیاتو له سببه پر ظاهري عمومي ضابطه عمل نه کېده؛ نو موسی علیه السلام د خپلو معلوماتو پر بناء هرومرو اعتراض او تنقید کوي، او د صبر او سکوت او انتظار پر مسلک به تر ډېر مدّت پورې نشي قائم پاتې کېدی، او آخري نتیجه به داسې واقع کیږي چې مونږ به سره بېلېږو.

قَالَ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ صَابِرًا وَلَآ أَعۡصِي لَكَ أَمۡرٗا ٦٩

وویل (موسی خضر ته) چې ژر به وومومې ته ما که اراده وفرمایي الله صبر کوونکی، او نافرماني به نه کوم ستا په هیڅ یو امر (حکم) کې.

تفسیر: د دغه وعده کولو په وخت کې د دغې خبرې تصوّر هم موسی علیه السلام ته نشو کېدی چې د داسې یو مقرّب او مقبول بنده څخه به داسې یو حرکت لیدل کیږي چې نه یواځې د موسوي شریعت بلکه د عمومي شرائعو او اخلاقو هم مخالف او مغائر وي، غنیمت دی چې ده «ان شاء الله» ورسره فرمایلې وه، که نه له قطعي وعدې څخه تخلّف د یو اولوالعزم نبي له شانه سره نه وي لایق.

قَالَ فَإِنِ ٱتَّبَعۡتَنِي فَلَا تَسۡـَٔلۡنِي عَن شَيۡءٍ حَتَّىٰٓ أُحۡدِثَ لَكَ مِنۡهُ ذِكۡرٗا ٧٠

نو وویل (خضر موسی ته): پس که ته متابعت کوې ځما؛ پس پوښتنه مه کوه له مانه د هیڅ څیز تر هغه پورې چې زه شروع وکړم تاته د هغه ذکر (او بیان).

تفسیر: یعنې که کومه خبره په ظاهري ډول سره ناحقه په نظر درشي؛ نو علی الفور پر ما باندې تنقید یې مه کوه ! څو زه پخپله هغه خبره تاته شروع کړم.

فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا رَكِبَا فِي ٱلسَّفِينَةِ خَرَقَهَا قَالَ أَخَرَقۡتَهَا لِتُغۡرِقَ أَهۡلَهَا لَقَدۡ جِئۡتَ شَيۡـًٔا إِمۡرٗا ٧١

پس دواړه روان شول تر هغه پورې چې سواره شول په بېړۍ کې، نو سوري کړه (خضر) هغه بېړۍ، وویل (موسی) آیا سوري دې کړه دا (بېړۍ) لپاره د دې چې غرق کړې اهل د دې، خامخا په تحقیق ودې کړ یو کار ناشنا.

تفسیر: کله چې دوی پر هغې بېړۍ سورېدل، بېړۍ وانانو خضر علیه السلام وپېژند، او ترې یې اجرت او باړه ونه غوښت، او ویړیا یې له سینده پورې ویست، نو د هغه احسان په بدل کې د دغه نقصان د لیدلو څخه موسی علیه السلام ته ډېر زیات تعجّب پیدا شو، لیکن بېړۍ په پوره ډول سره ساحل ته نژدې شوې وه چې دا یې سوري کړه، نو ځکه خلقو له ډوبېدلو څخه نجات وموند، او تخریق یې هم په دغه صورت سره وو چې یوه دړه (تخته) یې ویسته، یعنې عیبجنه یې کړه.

قَالَ أَلَمۡ أَقُلۡ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ٧٢ قَالَ لَا تُؤَاخِذۡنِي بِمَا نَسِيتُ وَلَا تُرۡهِقۡنِي مِنۡ أَمۡرِي عُسۡرٗا ٧٣

وویل (خضر موسی ته) آیا ما نه وو ویلي: بېشکه ته له سره به ونه کړی شي طاقت له ما سره د صبر.
وویل (موسی خضر ته) مه نیسه ما په هغه کار چې هېر کړی مې وو (چې هغه وصیت ستا دی)، او مه غورځوه ماته په دې کار ځما (چې متابعت یا نسیان دی) اشکال او سختي.

فَانْطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا لَقِيَا غُلَامًا فَقَتَلَهُ قَالَ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُكْرًا ﴿٧٤﴾

پس بيا روان شول تر هغه پورې چې پېښ شول پر يو هلک؛ پس مړ کړ (خضر) هغه (هلک)، وويل (موسى خضر ته) آيا مړ دې کړ يو نفس پاک بې ګناه غير له عوضه د بل نفس، خامخا په تحقيق را دې وړ (ودې کړ) يو کار ښکاره ناروا.

تفسير: يو کلي ته نژدې څو هلکانو پخپلو منځونو کې سره لوبې کولې، د دوى له منځه يو هلک يې چې ډېر ښکلى او هوښيار او پوه ښکارېده؛ ونيوه او مړ يې کړ، او له هغه ځايه په تلوار سره روان شو.

﴿نَفْسًا زَكِيَّةً﴾ الآية ـ يعنې څو هلک بالغ نشي؛ پر ده باندې هيڅ ګناه نه اوړي، دغه لفظ ظاهراً د هغه په عدم بلوغ اشاره او تأييد کوي، اګر که نورو ته د تأويل ځاى په کې نشته.

﴿شَيْئًا نُكْرًا﴾ الآية ـ يعنې اول خو نابالغ په قصاص کې هم وژلى کېدى نشي، علاوه پر دې دلته د قصاص کومه خبره هم په منځ کې نه وه، نو بيا له دې نه زياته نامعقوله به څه وي؟ (چې بې سببه يو بې ګناه نفس ووژلى شي؟).

قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٥﴾

نو وويل (خضر موسى ته) آيا ما نه وو ويلي تاته چې بېشکه ته له سره به ونه کړى شې طاقت له ما سره د صبر.

تفسير: ځکه چې داسې حالات او واقعات دروړاندې کېږي چې ته د هغو په کتلو سره صبر کولى نشې، او نه پرې چپ پاتې کېدى شې، لکه چې همداسې هم وشو.

قَالَ إِنْ سَأَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصَاحِبْنِي قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَدُنِّي عُذْرًا ﴿٧٦﴾

نو وويل (موسى) که چېرې وپوښتم زه تا (اى خضره) د څه شي (چې صادر شي له تا) وروسته له دې سواله؛ پس ملګرتيا مه کوه له ما سره په تحقيق ورسېدې ته له طرفه ځما عذر ته.

تفسير: موسى عليه السلام داسې تخمين فرمايلى وو، چې د خضر عليه السلام د دغو حيرانوونکو واقعاتو ته په صبر او سکوت سره کتل ډېر درومند او لوى زړه غواړي، نو ځکه د خپل د زړه آخري خبره يې وويله، چې که په دغه مرتبه بيا ترې پوښتنه وکړم؛ نو دې مې بيا له خپله ځانه سره نه ملګرى کوي، او دى به پخپل دغه عمل کې معذور وي، او ځما له لورې کوم الزام پر هغه باندې نشي عائد کېدى، ځکه چې ده د دريو مرتبو موقع راکړه، او ده پخپله د حجّت اتمام فرمايلى دى.

فَانْطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ فَأَقَامَهُ

بيا روان شول دواړه، تر هغه پورې کله چې راغلل اهل د يوه کلي ته؛ نو طعام وغوښت دوى له خلقو د هغه (کلي) څخه، پس منع راوړه (هغو خلقو) له دې نه چې مېلمستيا ورکړي دغه خلق دوى ته، بيا وموند دوى (دواړو) په هغه کلي کې يو دېوال چې اراده يې وه چې ونړېږي (يعنې نژدې وو لوېدلو ته) پس سم کړ (خضر) هغه دېوال.

تفسير: يعني يوه كلي ته ورسېدل او د هغه له خلقو سره يې ملاقات او كتنه وكړه، او داسې به يې ګڼل چې د دغه كلي خلق به د دوی سره د مېلمنو سلوك وكړي، او ډوډۍ به وركړي، مګر دوی د موسی او خضر عليهما السلام په شان عزيزو مقرّبانو د مېلمستيا څخه انكار وكړ، نو د داسې معاملې د ليدلو څخه داسې په كار وو، چې پر داسې تنګ زړه او بې مروته خلقو دوی په قهر بده، مګر خضر عليه السلام د قهر په ځای پر دوی احسان وفرمايه، د دوی يو لوی دېوال ځوړند او كوږ شوی وو، او نژدې وو چې ونړيږي، او خلق د هغه د چارچاپېره لرې ګرځېدل، خضر عليه السلام لاس او پښې ورلوڅې (متې ونغاړلې) كړې او هغه ځوړند دېوال يې ورسم كړ، او د انهدام له حالته يې وساته.

قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا ﴿٧٧﴾

وويل (موسی خضر ته) كه اراده كړې وی تا (د اخيستلو د اجر)؛ نو خامخا به دې اخيستې وه (په سازولو د دې دېوال) مزدوري.

تفسير: يعني د دغه كلي خلقو د مېلمنو حق ونه پېژند، چې ځمونږ مېلمستيا يې كړې وی، تا ولې خوشې ويړيا د دوی ځوړند دېوال ورتېنګ كړ؟ كه د هغه څه معاوضه دې اخيستې وی؛ نو ځمونږ خوراك او نور ضروريات به ترې په لاس راتله، او دغه تنګ زړو بخيلانو ته به هم ترې لږ څه تنبيه كېده، ګوندې دوی به پر خپلې دغې بد اخلاقۍ او بې مروتۍ لږ شرمېدل.

قَالَ هَٰذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ ۚ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٧٨﴾

وويل (خضر موسی ته) دا دی وخت د بيلتون په منځ ځما او ستا كې، اوس به ژر خبر كړم تا (ای موسی !) په غرض د هغه كار چې ونه كړی شو تا طاقت په هغه باندې د صبر.

تفسير: يعني له هغې وعدې سره سم ښايي چې اوس له ما ځنې تاسې بيلتون وفرمايئ ! ځما او ستا موافقت او ګذاره سره ګرانه ده، ليكن پخوا له بېلتانه غواړم چې د دغو تېرو دريو واړو واقعاتو پټ اسرار تاسې ته درښكاره كړم، چې د هغو په فكر او څرت (خيال) كې له تاسې څخه د صبر او استقامت شان قائم نشو پاتې.

أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَاكِينَ يَعْمَلُونَ فِي الْبَحْرِ فَأَرَدتُّ أَنْ أَعِيبَهَا وَكَانَ وَرَاءَهُم مَّلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصْبًا ﴿٧٩﴾

هر چې هغه ببړۍ (چې ما سورۍ كړې وه)؛ نو وه لپاره د هغو عاجزانو چې كار به يې كولو په بحر (درياب) كې، نو وغوښته ما چې عيبجنه كړم هغه، حال دا چې وو لږ څه لرې له دوی نه يو باچا چې اخيسته به يې هره يوه ببړۍ په زور سره (نو ځكه مې سورۍ كړه).

تفسير: يعني په هم هغه لوري چې دغه ببړۍ روانه وه، په هم هغه طرف يو ظالم باچا وو، چې هره يوه جوړه ببړۍ به يې په زور سره نيوله، او پخپل كار كې د بيګار په ډول به يې په كار اچوله، نو ما وغوښته چې هغه ببړۍ عيبجنه كړم څو د هغه ظالم پاچا له بيګاره خلاصه او د همدغو مسكينانو د كار لپاره هم هغسې ورانه او ويجاړه پاتې شي، ځكه چې په همدغو ايامو كې د هغه پاچا سړي په ببړۍ پسې راځي، كله چې هغه سورۍ او عيبجنه وموميؤ نو د هغې د اخيستلو څخه به ستر كې واړوي.

وَأَمَّا الْغُلَامُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِينَا أَن يُرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَكُفْرًا ﴿٨٠﴾

او هر چې هغه هلك وه (چې وژلی وو ما) پس وو مور او پلار د ده مؤمنان، پس وويرېدو مونږ له دې چې وبه رسوي (مجبوره به كړي) دوی په سركشۍ او كفر (كه ژوندی پاتې شي).

تفسير: اګر که فطرتًا هر مولود مسلمان پيدا کيږي، مګر وروسته له هغه د خارجي اثراتو تر تأثير لاندې راغلی په همدغه هلکتوب کې د ځينو خرابو اعمالو اساس او بنياد په کې لويږي، چې د هغه کامل علم يواځې پاک الله ته وي.

د دغه هلک په نسبت رب العزّت خضر عليه السلام ته پوهه او خبر ورکړی وو، چې د هغه بنياد پر خرابی او شرارت باندې مرکزيت نيولی دی، که کبارت ته ورسيږي؛ د ده د مور او پلار د کفر او معصيت او مذلّت سبب ګرځي، نو د داسې يو هلک وژل د هغه د والدينو لپاره رحمت او د هغوی د ديني حفاظت سبب وګرځېد، د الله تعالی دا اراده وه؛ چې د هغه مور او پلار پر خپل ايمان قائم اوسي، او د الله تعالی حکمت مقتضي وو چې راتلونکې خطره د دوی له مخې لرې شي، نو خضر عليه السلام ته يې حکم وکړ، چې دغه هلک ووژنه، ده د پاک الله د وحي په امتثال هغه هلک ووژلو.

دلته د خضر عليه السلام په ذريعه د هغه يوه نمونه ورښوول مقصود وو، چې د پاک الله د حکمتونو او د ده د تکوينيه وو مصالحو احاطه د هيڅا له لاسه نه ده پوره، کله د يوې واقعې ظاهري صورت په ظاهر کې خراب ښکاري؛ ليکن هغه څوک چې د دغې واقعې په باطني اعماقو او زوايووباندې معلومات لري، هغه پوهيږي چې په دغه کې ډېر حکمتونه او مصالح پراته دي، خضر عليه السلام د هغو مسکينانو د ببرې درې ورماته کړه، حال دا چې هغوی له ده سره ښه او احسان کړی وو، او بلا اجرت يې دی پر ببرې سور کړی وو، يو لوبې کوونکي پيمخي هوښيار هلک يې او بيګناه وواژه، چې په ظاهر کې دغه حرکت نهايت خراب ښکاره کېده، ديوال يې سم او ساز کړ چې ظاهراً يې پر هغو کليوالو احسان وکړ؛ چې هغوی په ډېرې بې مروتی له دوی سره معامله کړې وه، که پخپله خضر عليه السلام په آخر کې خپل د دغو اعمالو توجيهات نه وی بيان کړي؛ نو تر نن ورځې پورې به ټول جهان د چرت په سيند کې ډوب وو، يا (العياذ بالله) خضر عليه السلام به يې د طعن او تشنيع هدف کولو، له همدغو مثالونو څخه د الله تعالی د افعالو او د ده د حکمتونو اندازه وکړئ !.

فَأَرَدْنَآ أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكَوٰةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا ﴿٨١﴾

نو وغوښته مونږ دا چې بدل ورکړي دوی ته رب د دوی (بهتر غوره) له دې هلک څخه په پاکی (اصلاح) کې، او ډېر نژدې به وي له جهته د رحم مهربانی.

تفسير: يعنې د هغه هلک په وژلو سره د ده د والدينو ايمان محفوظ پاتې شو، او هغه صدمه چې دوی ته ورسېده؛ الله تعالی اراده لري چې د هغې تلافي په داسې يوه مولود سره وکړي، چې په اخلاقي صفاتو او مزاياوو د هغه مقتول هلک څخه ډېر ښه او د مور او پلار د شفقت او مهربانی مورد وګرځي، او هغه به د خپل مور او پلار سره زيات محبّت ولري، او په ډېر تعظيم او ښه سلوک به وروړاندې کيږي.

وَأَمَّا ٱلْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَٰمَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِى ٱلْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُۥ كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَٰلِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبْلُغَآ أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ وَمَا فَعَلْتُهُۥ عَنْ أَمْرِى ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٨٢﴾

او هر چې (هغه) ديوال وو؛ پس وو د هغو دوو هلکانو يتيمانو په (هغه) ښار کې، او وه لاندې د هغه خزانه د دغو دواړو، او وو پلار د دوی صالح، نو اراده وکړه رب ستا چې ورسيږي (دغه دواړه) قوّت (د ځلميتوب) خپلو ته او بيا راوباسي هغه خزانې خپلې، (محض) له جهته د رحم مهربانی له جانبه د رب ستا، او نه دي کړي ما دغه تېر اعمال (چې تا وليده) له خپله ځانه (په حکم

او فکر خپل، بلکه دي کې د الله حکم همداسی وو)، دغه دي (درې واړه) ځوابونه د هغو پېښو چې طاقت نشو کولی تا پر هغه د صبر.

تفسیر: یعنې که هغه د هوال لوړده؛ نو د هغو یتیمانو هغه خزانه چې ترې لاندې خښه کړی شوې وه، راڅرګندېده، او بدنیتو خلقو به هغه رایستله، د دغو یتیمانو پلار یو ښه صالح سړی وو، د هغه د نېکۍ په رعایت د الله جلّ جلاله اراده داسې وشوه چې د دغو یتیمانو د مال حفاظت وکړی شي، نو ما د الله جل جلاله په حکم هغه د هوال سم کړ، چې هغه هلکان وروسته له ځلمیتوبه د خپل پلار خزانه بیا وموندلی شي.

تنبیه: د دې قصې په شروع کې د خضر علیه السلام د نبوّت او ولایت په متعلق څه شی چې مونږ لیکلي دي، هغه دې بیا دلته یو ځلې ولوستل شي.

وروسته د «ذوالقرنین» قصه راځي، چې دغه هم د هغو دریو شیانو څخه ده، چې د هغو په نسبت د یهودانو په مشوره قریشو پوښتنه کړې وه، د «روح» په متعلق لازم جواب د «بني اسرائیل» د سورت په ابتداء کې معلومات ورکړ شو، دغه دی چې د درېیم سوال په نسبت اوس لازم ارشاد کیږي.

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنْ ذِى الْقَرْنَيْنِ ۖ قُلْ سَأَتْلُوا۟ عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكْرًا ﴿٨٣﴾ إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِى الْأَرْضِ وَءَاتَيْنَٰهُ مِن كُلِّ شَىْءٍ سَبَبًا ﴿٨٤﴾

او پوښتنه کوي مشرکان له تا نه له قصې د ذوالقرنین؛ ووایه (ای محمده ! دوی ته): اوس به زه ولولم پر تاسې له ده څخه احوال. بېشکه چې مونږ قدرت ورکړی وو ده ته په ځمکه کې، او ورکړی وو مونږ ده ته (له هر محتاج الیه) څیز څخه یوه لاره (روښانه رسوونکې مقصد ته).

تفسیر: هغه پاچا ته ځکه «ذوالقرنین» وایي چې د دنیا دواړو څنډو (مشرق او مغرب) ته تللی وو، ځینې وایي چې دغه د رومي «اسکندر» لقب دی.

ځینې وایي: کوم بل مقبول دیندار الله منونکی پاچا تېر شوی وو.

«حافظ ابن حجر رحمه الله» په «فتح الباري» کې په متعددو وجوهو او دلائلو سره دغه دویم قول ته ترجیح ورکړې ده، او «حافظ ابن کثیر رحمه الله» هم دې قول ته ترجیح ورکړې ده.

د روایاتو له مجموعې څخه ظاهریږي چې «ذوالقرنین» د ابراهیم علیه السلام معاصر وو، او د ده په دعاء سره پاک الله ده ته خارق العاده سامان او وسائل عطاء فرمایلی وو، چې د هغو په ذریعه ده ته د مشرق او مغرب په سفر کې بری په برخه شو، او پر محیر العقولو فتوحاتو یې قدرت وموند.

فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِى عَيْنٍ حَمِئَةٍ

پس ونیوله ده لاره (او هغه اسباب چې ویې رساوه مغرب ته). تر هغه پورې چې ورسېد ځای د پرېوتلو د لمر ته، نو ویې موندە دغه (لمر) چې ډوبېده په (لویه) چینه کې له تورو خټو.

تفسیر: یعنې د سفر ترتیب او تجهیز او سر رشته یې وکړه، او پیروي وکړه ذوالقرنین د هغې لارې چې د مغرب په لوري تله، تر هغه پورې چې ورسېد ځای د پرېوتو د لمر ته؛ نو ذوالقرنین وموند دغه لمر چې ډوبېده په یوه لویه چینه کې له تورو خټو، یعنې داسې یې په نظر راغی لکه چې په سمندر کې سفر کوونکو ته هم ښکاري چې لمر له اوبو څخه وځي، او په اوبو کې ډوبېږي.

وَوَجَدَ عِندَهَا قَوْمًا ۗ قُلْنَا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِمَّا أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّا أَن تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا ﴿٨٦﴾

او ويې مونده نژدې هغه ته يو قوم (د کفارو)، وويل مونږ: ای ذوالقرنینه ! يا خو په عذاب کړه دغه خلق (که ایمان نه راوړي په قتل سره) يا ونيسه په دوی کې يوه ښه لاره (که ایمان راوړي په ارشاد او نصيحت سره).

تفسير: مونږ «ذوالقرنين» ته اختيار ورکړ، چې که غواړې هغوی ووژني، يا ړومبی د اسلام په لوري دعوت او بلنه ورته ورکړي، نو «ذوالقرنين» دغه دوهم شق اختيار کړ.

قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهُ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِ فَيُعَذِّبُهُ عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨٧﴾ وَأَمَّا مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُ جَزَاءَ الْحُسْنَىٰ ۖ وَسَنَقُولُ لَهُ مِنْ أَمْرِنَا يُسْرًا ﴿٨٨﴾

نو وويل (ذوالقرنين) هر هغه څوک چې ظلم يې وکړ (په نفس خپل په دوام د کُفر) پس ژر به عذاب کړو دی (په دنيوي عذاب)، بيا به بوتلی شي رب خپل ته؛ پس عذاب به کړي (الله) دی په عذاب لوی سره (په عقبی کې). او هر هغه چا چې ایمان يې راوړ او عمل يې وکړ صالح، پس ده ته ده جزاء نېکه (په دارينو کې چې نعمت او جنت دی)، او ژر ده چې وبه وايو ده ته له کاره خپله آسانه (په ده باندې).

تفسير: يعنې په آخرت کې به نيکي وموميي او په دنيا کې مونږ پر دوی څه سختي نه راولو، بلکه د خپل کار لپاره هر کله چې دوی ته کومه خبره ووايو؛ نو په سهولت او نرمی سره ورته وايو، في الحقيقت هر هغه پاچا چې عادل وي؛ د هغه کار او د عمل طرز به همداسې وي، چې له بدانو سره بدي کوي، او هغوی په سزا رسوي، او له نېکانو سره لطف او نرمي کوي، لکه چې «ذوالقرنين» همدغه طريقه ځان ته غوره کړې وه.

ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَىٰ قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتْرًا ﴿٩٠﴾

بيا يې ونيوله بله لاره (او هغه اسباب چې رساوه يې مشرق ته). تر هغه پورې چې ورسېد ځای د راختلو د لمر ته؛ نو ويې موند هغه (لمر) چې راخوت پر يوه قوم باندې چې نه وه ګرځولې مونږ دوی ته له لاندې د دې (لمر) کومه پرده.

تفسير: يعنې د مغربي سفر څخه فارغ شو، او د مشرق په طرف د خپل سفر په تجهيز او ترتيب مشغول شو، په لوی قرآن او حديث کې دغه نه ده تصريح شوې چې د «ذوالقرنين» دغه ټول سفرونه د فتوحاتو او ملک نيولو لپاره وو، ممکن دی چې د محض سير او سياحت په ډول وي، ده د مشرق په انتهاء کې داسې قوم وليد، چې د لمر پلوشې مستقيمًا ورسېدې، دا خلق به وحشيان او ځنګليان وي، د کور جوړولو او د چت پټولو چل به يې هم نه وو زده، يا به په کې دود (رواج) او دستور نه وو، لکه چې اوس هم په ډېرو وحشيو او ځنګليو او ځينو کوچيانو کې همدغه دود او دستور او رواج ليدل کيږی.

كَذَٰلِكَ ۖ وَقَدْ أَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ﴿٩١﴾

هم داسې وو (حال د ذوالقرنين چې مذکور شو) او په تحقيق احاطه کړې وه مونږ په هغه شي باندې چې د ده څخه وو (له لښکرو او لوازمو) له جهته د خبرداری.

تفسير: يعني د «ذوالقرنين» د مشرق او د مغرب د سفر کوم کيفيت چې بيان کړی شو؛ هغه په واقع کې هم داسې دی، هغه وسائل چې د ده سره وو، او هغه حالات چې ده ته وروړاندې شوي دي؛ پر هغو ټولو ځمونږ علم محيط دی، ښايي چې مؤرخينو به په دغه مورد کې بل څه ويل، او هغه به في الحقيقت هم دغومره قدر وي چې وفرمايه شو.

ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوْمًا لَّا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ قَوْلًا ﴿٩٣﴾

بيا ونيوله ده بله لاره (او تيار يې کړ نور اسباب). تر هغه پورې چې ورسېد منځ د دواړو غرونو ته نو ويې موند وړاندې د دغو دواړو (غرونو) داسې قوم چې نه وو نژدې چې وپوهيږي په خبره (د ذو القرنين) باندې.

تفسير: دغه درېيم سفر يې پرته (علاوه) له مشرقه او مغربه د کوم درېيم جهت په طرف کړی وو، مفسّرين دغه ته د شمالي سفر وايي، خو په قرآن او حديث کې د هغه څه تصريح نشته.

تنبيه: د دغه قوم او «يأجوج، مأجوج» په منځ کې به دغسې دوه غرونه حائل وو، چې پر هغو به ختل ناممکن وو، خامخا د دغو دواړو غرونو په منځ کې به کومه دره وه، چې له هغې خلاصې لارې به «يأجوج، مأجوج» راتلل، او خلق به يې شکول، او راز راز ظلمونه او زياتي به يې پرې کول، او بېرته به تلل.

قَالُوا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلَىٰ أَن تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿٩٤﴾

وويل دغو ای ذوالقرنينه ! بېشکه چې يأجوج او مأجوج فساد کوونکي دي په ځمکه کې، پس آيا مقرّر کړو تاته څه خرج محصول لپاره د دې کار چې جوړ کړې ته په منځ ځمونږ او په منځ د دوی کې يو دېوال.

تفسير: د «ذوالقرنين» د فوق العاده اسبابو او وسائلو او قوّت او حشمت د ليدلو څخه دوی ته به داسې خيال پيدا شوی وي، چې ځمونږ د دغو تکاليفو او مصائبو انسداد به د ده له لاسه پوره وي، نو ځکه يې عرض وکړ چې: «يأجوج، مأجوج» ځمونږ په ملک لويه غلبه او شورماشور غورځوي، او تل راځي مونږ وژني، او ځمونږ مال او شته تالا کوي، او مونږ په راز راز ربړو (تکليفونو) آخته کوي، که تاسې ځمونږ او د هغوی په منځ کې کوم ټينګ او کلک دېوال او سد راجوړ کړئ، چې مونږ پرې محفوظ شو، نو پر دغه کار هر څومره لګښت چې وشي؛ مونږ د هغه مال تأديې ته حاضر يو، ښايي چې تاسې دغه مصرف ځمونږ د مالې او محصول او اجرت په شان تحصيل کړئ !.

تنبيه: «يأجوج مأجوج څوک دي»؟ په کوم ملک کې اوسيږي؟ د «ذوالقرنين» هغه جوړ کړی سد (د اوسپنې دېوال) چېرې دی؟ دا هغه سوالات دي چې د هغو متعلّق د مفسّرينو او مؤرخينو اقوال سره مختلف دي.

د اکثرو علماوو په نزد يأجوج ومأجوج د آدم عليه السلام اولاد دی د حواء رضي الله تعالى عنها نه، اوس دغه قوم چېرې دی؟ او د «ذوالقرنين» د اوسپنې دېوال چېرې واقع دی؟ نو هر هغه څوک چې دغه ګرد اوصاف تر خپل نظر لاندې ونيسي، چې د هغه ثبوت د دغه قوم او د اوسپنې د دېوال په متعلق په لوی قرآن او صحيحه وو أحاديثو کې شته، نو هغه به وايي: د هغو اقوامو او ملکونو او ديوالونو نښه او پته چې خلقو په خپله رايه سره ورکړې ده؛ پر هغو د دغو اوصافو مجموعې څنې يو وصف هم نه موندلی کيږي، لهذا هغه خيالات صحيح نه ښکاري، او له صحيحه وو أحاديثو څخه انکار يا د نصوصو بعيده تأويلات له دې نه خلاف دي، پاتې شوه د مخالفينو دغه شُبهه چې مونږ ګرد د ځمکې مخ لټولی دی، مګر هيڅېرې د دغو شيانو نښه او پته مو نه ده موندلې؟.

نو د دغې شُبهې د جوا ب لپاره ځمونږ مؤلفينو د پټې او نښې ښوولو لپاره ډېر زيار (محنت) او کوښښ ايستلی دی، خو د دې صحيح جواب همدغه دی، چې «علامه آلوسي بغدادي» ورکړی دی.

«مونږ ته د هغه موقع نه ده معلومه، او ممکن دی چې ځمونږ او د هغه په منځ کې په دغه حاضره زمانه کې لوی لوی سيندونه حائل وي، او په هغه وخت کې له کومې لويې وچې سره لکه (سايبيريا) او (امريکا) به نښتې وي، او داسې دعوی چې مونږ پر ټول بر او بحر (وچه او لونده) حالاً وماضيًا وآتيًا محيط شوی يو واجب التسليم نه دی، عقلا جائز دی هم هغسې چې له نن ورځې (۱۳۲۳هـ ش) تر نژدې پنځه سوه کلونو د مخه پورې د امريکې براعظم نه وو راڅرګند شوی، اوس هم ويلی شو چې ممکن دی داسې بل کوم براعظم هم موجود وي چې تر اوسه پورې به مونږ له هغه ځنې معلومات نه لرو، او امکانات شته چې لږ وخت وروسته يا به مونږ هلته ورسيږو، يا هغه خلق به مونږ ته ځان ورسوي.

د سمندر د دېوال تحقيقات چې د «استراليا» په شمال شرقي ساحل کې واقع دی، او څه وخت پخوا له دې نه د يو برطانوي ساينس دان «ډاکټر سي ايم بنګ» تر کتنې او هداياتو جاري وو؛ دغه دېوال له زر ميله زيات اوږد او په ځينو ځايونو مقاماتو کې تر دولسو ميلو پورې عريض او زر فوټه ارتفاع لري، چې پرې ډېر مخلوق هستوګنه لري، هغه ډله چې د دغه کار لپاره روانه شوې وه؛ خپل يو کلنې تحقيقات يې پای (آخر) ته رسولي دي، چې د هغه د راپور د لوستلو څخه د سمندر عجيب او غريب اسرار منکشف کيږي، او انسان ته د حيرت او استعجاب يوه نوې دنيا معلوميږي، بيا نو څرنګه داسې دعوی کېدی شي چې مونږ پر ګردو بريه وو او بحريه وو مخلوقاتو او موجوداتو خبردار، او د هغو مکمل اکتشافات حاصل کړي دي؟ ! په هر حال کله مخبر صادق چې د هغه صدق په قطعيه وو دلائلو ثابت دی؛ د دې ديوال څخه د هغه د اوصافو خبر راکړی دی؛ نو پر مونږ واجب دي چې د هغه تصديق وکړو، او د هغو د واقعاتو په انتظار کې سترګې په لار ولرو، چې د مشککينو او منکرينو علی الرغم هرومرو راتلونکې دي.

قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿٩٥﴾

وويل (ذوالقرنين) هغه چې اقتدار راکړی دی ماته په هغه کې رب ځما خير (ډېر غوره) دی (له ورکړې ستاسې نه چې محصول دی)، پس مرسته وکړئ تاسې له ما سره په (انساني) قوّت سره؛ چې جوړ کړم په منځ ستاسې او په منځ د دوی کې يو پرېږ (او محکم) دېوال.

تفسير: يعنې مال له ما سره ډېر دی، مګر په لاسونو او پښو له ما سره په زيار (محنت) او زحمت تېرولو کې مرسته (مدد) وکړئ !.

آتُونِي زُبَرَ الْحَدِيدِ حَتَّىٰ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ انفُخُوا حَتَّىٰ إِذَا جَعَلَهُ نَارًا قَالَ آتُونِي أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿٩٦﴾

راواخلئ تاسې ماته تختې د اوسپنې، تر هغه پورې (يې اينبودلې چې) برابر شو دا دېوال په منځ د دوو څوکو (د غرو)، نو وويل (ذوالقرنين) چې پو کړئ ! (پر دغو سکرو چې اچولي شوي دي په منځ د تختو د اوسپنې کې، نو پو يې کړل) تر څو چې يې وګرځوله دغه (اوسپنه) اور، وويل (ذوالقرنين) راوړئ ماته چې توی کړم په دې دېوال زېږ (ويلي شوی).

تفسير: يعنې ړومبی يې د اوسپنې لويې لويې تختې سر په سر لاندې باندې سره کښودې، او يو له بل سره ټينګې او کلکې يې کړې، څه مهال چې د هغو لوړوالی د دواړو غرونو څوکو ته ورسېد (نو پرې لرګي او سکاره انبار کړل شو)، او خلقو ته يې امر ورکړ چې د دغه اور په لګولو او پو کولو کې راسره مرسته وکړئ (چې په يوه آن او يوه شېبه

کې له یوه سره تر بل سره پورې او له پاسه تر ښکته پورې یوځلي ولګیږي، او بیا ژر ترې لرې او ګوښه شئ)، کله چې اوسپنه د اور په شان سره او ګرد سره یو جسم شو، په دغه وخت ویلې شوی ژېړ یې پرې راتوی کړه، چې د هغو اوسپنو په درزونو او چادونو کې ننوتل، او بیخي یې نژدې او پیوست کړه، او ګرده سره یو شوه، او د یو سخت غرني دېوال په شان وګرځېد، دغه ګرد کارونه په دغه زمانه کې ظاهراً د یوه خارق العاده طریقې سره به انجام موندلی وي، چې ښایي هغه د «ذوالقرنین» له کرامته وګڼله شي، یا ممکن دی چې په هغه وخت کې به داسې اقسام آلات او اسباب موندلي کېده چې پر هغو اوس ځمونږ علم نه رسیږي.

فَمَا اسْطَاعُوا أَن يَظْهَرُوهُ وَمَا اسْتَطَاعُوا لَهُ نَقْبًا ﴿٩٧﴾

پس طاقت به نه وي د دوی چې وخیژي پرې (او ښکاره شي پرې له جهته د لوړوالي) او نه به طاقت وي د دوی دغه (غره) ته د سوري کولو (له جهته د سختوالي او پر ېړوالي).

تفسیر: یعنې الله تعالی في الحال یأجوج مأجوج ته دغه قدرت نه دی ورکړی چې دغه دېوال سوری کړي، یا یې ونړوي او ترې تېر شي.

قَالَ هَٰذَا رَحْمَةٌ مِّن رَّبِّي ۖ فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ رَبِّي جَعَلَهُ دَكَّاءَ ۖ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي حَقًّا ﴿٩٨﴾

وویل (ذوالقرنین) دغه (اتمام د دېوال) او اقتدار ځمونږ په جوړولو د هغه یو رحمت دی له جانبه د رب ځما، نو هر کله چې راغله وعده د رب ځما (په خروج د دغو قبیلو)؛ نو وبه ګرځوي دا (سد) هوار برابر له ځمکې سره، او ده وعده د رب ځما حقه (رښتیا ثابته).

تفسیر: یعنې محض د الله تعالی په مهربانی دغه سد قائم شو، او تر معینه میعاده پورې به قائم پاتې شي، له صحیحه وو أحادیثو څخه معلومیږي چې د عیسی المسیح علیه السلام د نزول او د دجّال د قتله وروسته قیامت ته نژدې د یأجوج مأجوج د وتلو وعده ده، نو دغه سد به له منځه لرې کړ شي، او دغه دېوال به دوی ونړوي، او په هومره یو کثیر تعداد به دوی ترې ووځي او راتویږي، چې د هغوی شمېر پرته له الله تعالی بل هیچا ته به نه وي معلوم، ټوله دنیا به د دوی له مقابلې عاجزیږي، مسیح علیه السلام ته به حکم ورکړ شي، چې ځما له خاصو بندګانو سره په «طور» باندې لاړ شه، بالآخر مسیح علیه السلام به د الله په دربار کې دعاء او راز او نیاز وکړي، نو وروسته له هغه پر یأجوج مأجوج باندې یوه غیبي وباء مسلّطه کیږي، او ګرد سره یوځلي مړه کیږي، زیات تفصیلات دې د أحادیثو په کتابونو کې په «باب أمارات الساعة» کې وکتل شي !.

دلته د ذوالقرنین حکایت تمام شو، نو بیا فرمایي الله تعالی:

وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَجَمَعْنَاهُمْ جَمْعًا ﴿٩٩﴾ وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكَافِرِينَ عَرْضًا ﴿١٠٠﴾

او پرې به ږدو ځینې د دوی په دغه ورځ کې چې موج به وهي (له ډېر ازدحامه او ننوځي) په ځینو نورو کې، او پو به کړی شي په صور (شپېلی) کې، پس راجمع به کړو مونږ دغه ټول (مخلوقات). او راوړاندې (نژدې او ښکاره) به کړو جهنّم په دغې ورځې کې کافرانو ته په وړاندې کولو سره (لپاره د هیبت).

تفسیر: یعنې یأجوج مأجوج د سمندر د موجونو او لویو څپو په شان بېشماره تعداد غونډ غونډ د لویو سیندونو د لویو لویو څپو په ډول راوځي او راتویږي، یا یې دا مطلب چې د هول او خوف او وېرې او اضطراب لامله به ګرد مخلوقات

سره ګډوډ او خلط ملط شي، جن او انس به يو له بله سره ننوځي، او يو لوی شورماشور او سخته غلبله به جوړه شي، بيا به د قيامت علائم ښکاره شي، او د اسرافيل عليه السلام صور (شپېلی) به وپوکله شي، وروسته له هغه به ګرد خلق د الله تعالی په حضور کې د محشر په ډګر کې سره راټولېږي، او وړاندې به راځي، او دوزخ به د کفّارو په مخ کې وروړاندې کېږي، ښايي د کفّارو تخصيص د دې لپاره کړی شوي وي؛ چې اصلاً دوزخ د همدغو لپاره تيار شوی دی، او د دوی پر سترګو باندې په دنيا کې پردې لويدلې وې چې پر هغه يې يقين او باور کړی وی، او اوس هغه پرده ترې لرې شوې ده.

الَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ فِي غِطَاءٍ عَنْ ذِكْرِي وَكَانُوا لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا ﴿١٠١﴾

هغه کافران چې وي سترګې د دوی په پرده کې (له ډېره غفلته) له ياده ځما، او وو دوی چې داورېدلو توان يې نه لرلو.

تفسير: يعنې پخپله د دوی د عقل سترګې نه وې پرانستلې؛ چې د الله جل جلاله دلائل او د قدرت ننبې يې پرې لېدلې وی، او باور او يقين يې پرې راوړی وی، او د الله تعالی په ياد لګېدلې وی، او له ډېره ضده او عناده د هيڅا خبره يې نه اورېده، او هغه چې بل چا ده ته ورښوده؛ پر هغه پوهېدلی وی.

أَفَحَسِبَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنْ يَتَّخِذُوا عِبَادِي مِنْ دُونِي أَوْلِيَاءَ ۚ إِنَّا أَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ نُزُلًا ﴿١٠٢﴾

آيا ګمان کوي هغه کسان چې کافران شوي دي د دې چې ونيسي دوی بندګان ځما پرته له ما څخه دوستان (معبودان چې زه دوی نه په عذابوم، بلکه) تيار کړی مو دی جهنّم لپاره د کافرانو پرلو (يا مېلمستيا).

تفسير: آيا منکرين داسې ګمان کوي؛ چې ځما د خاصو بندګانو: مسيح عليه السلام، عُزير عليه السلام، روح القدس عليه السلام او ملائکو د عبادت کولو په سبب دوی د خپل حمايت اومرستې لپاره ودروي: ﴿كَلَّا سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا﴾ له سره داسې نه دی ! دوی پخپله به ستاسې د دغو حرکاتو څخه د بېزاری اظهار وفرمايي، او ستاسې په مقابل کې به د مدعي په شان په ضد او عناد د تاسې ودرېږي.

قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا ﴿١٠٣﴾ الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا ﴿١٠٤﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) آيا خبر کړو تاسې په ډېرو سختو زيانکارانو باندې له جهته د عمله. دوی هغه کسان دي چې ورکې دي منډې (او زيار) د دوی په دغه ژوندون لږ خسيس کې، حال دا چې دوی ګمان کوي د دې چې ښېګه دوی ښه کوي کار (او عمل، او په واقع کې داسې نه ده).

تفسير: يعنې د قيامت په ورځ کې له ټولو څخه په زياته خساره کې به هغه کسان وي؛ چې د دوی ټول فعاليت، مساعي او ځغلېدل يواځې د دنيا لپاره وو، او له سره د آخرت فکر به ورسره نه وو، محض دنيوي ترقيات او مادي کاميابي به يې خپله لويه ترقي او معراج ګڼه، يا به يې دا مطلب وي چې هغه کارونه چې دوی په دنيوي ژوندون کې نېک او ښه ګڼل أعم له دې نه چې هغه به په واقع کې ښه وو يا خراب؛ هغه ګرد دکفر له نحوسته هلته بېکاره ثابت شول، او ټول محنتونه يې توی او برباد لاړل، او ګرد سره خراب شول.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا ﴿١٠٥﴾

دغه کسان (چې مخکې یاد شول) هغه کسان دي چې کافران شوي دي په آیتونو د رب خپل (په دنیا کې)، او په لقاء د دغه (الله په آخرت کې)، پس باطل ـ خراب شول عملونه د دوی، پس وبه نه درووِ لپاره د دوی په ورځ د قیامت کې هیڅ وزن (ځکه چې حسنات نه لري، یا تله د نفعې به دوی ته نه درووِ).

تفسیر: یعنې نه یې د الله تعالی دلائل منل، او نه یې داسې خیال وکړ چې کله به د هغه په مخ کې حاضر ېږم، نو د داسې کسانو ګرد زیار بېکاره ثابتېږي، ځکه چې د کافرانو حسنات مړه او بې اثره دي، او په ابدي ژوندون کې له سره په کار نه ورځي، نو اوس د دوی لپاره پرته له کفریاتو او سیئاتو یوه پله (پټ) څرنګه تلله شي؟ وزن (تلل) خو د موازنې لپاره وي، او موازنه د متقابلو شیانو کیږي، دلته خو د سیئاتو بالمقابل یو حسنه هم نشته، نو بیا وزن به د څه لپاره وي؟ یا دا چې وزن شته، مګر دوی ته دغه وزن هیڅ ګټه او منفعت نه رسوي، بلکه دوی ته لا زیان رسوي، او ښه پرې ملزم کیږي.

ذَٰلِكَ جَزَاؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوا وَاتَّخَذُوا آيَاتِي وَرُسُلِي هُزُوًا ﴿١٠٦﴾

دغه (دی چې اعمال د دوی باطل شول) جزا د دوی ده دوزخ په سبب د دې چې کافران شوي وو دوی، او نیولي وو دوی آیتونه ځما او رسولان ځما مسخره.

تفسیر: یعنې هغه ټوکې مسخرې مو چې کولې، او ملنډې مو چې وهلې؛ اوس د هغو خوند وڅکئ !.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴿١٠٧﴾ خَالِدِينَ فِيهَا لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا ﴿١٠٨﴾

بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه)؛ شته دوی ته جنّتونه د فردوس (اعلی ـ غوره)، بهتر ځای د هستوګنې (مېلمستیا پېشکشی). چې تل به وي په دغو (جنتونو) کې، نه به غواړي دوی له دغو (جنتونو) څخه ګرځېدل (او وتل بل ځای ته).

تفسیر: یعنې نه به ترې مړېږي، او تل تر تله به په هم هغه ځای کې خپل اوسېدل او هستوګنه غواړي، او شېبه په شېبه تازه په تازه نعمتونه وررسېږي، او له سره داسې کوم فکر او خیال به دوی ته نه پیدا کیږي، چې مونږ به له دغه ځایه بل ځای ته منتقل کړی شو.

قُل لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَاتُ رَبِّي وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ مَدَدًا ﴿١٠٩﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) که شي (اوبه د) بحر سیاهي لپاره (د لیکلو) د کلماتو د رب ځما؟ نو خامخا تمام به شي بحر پخوا له هغه نه چې تمام شي کلمات د رب ځما (ځکه چې کلمات د الله غیر متناهي دي)، او اګر که راوړو په مثل د دغه بحر (نور بحار هم) مدد ګار.

تفسیر: د سورت په خاتمه کې دا رابنیي چې د الله تعالی د علم او حکمت کلام او خبرې بې انتهاء دي، هغه خبرې چې ستاسې له ظرفه او استعداده او ضرورت سره لایقې دي؛ هغه مو دروښودې، دغه د الله تعالی د معلوماتو په مقابل کې دومره هم نه دي لکه یو څاڅکی د اوبو د سمندر په مقابل کې، فرض یې کړئ که د سمندر ډکردو اوبو څخه سیاهي جوړه شي، او په هغې د الله تعالی د خبرو په لیکلو لاس پورې کړی شي، او هغه د سمندر اوبه بیخي وچې شي، او بیا

دويم ځلي او درييم ځلي بيا دغه سمندر ډک او تش شي؛ نو دغه سمندرونه به وچيږي، مګر د پاک الله جلّت عظمتُه وأعظم برهانُه خبرې او کلام نه ختميږي، له همدې ځايه ويوهيږئ چې د عظيم الشأن قرآن او نورو سماويه کتابونو په ذريعه اګر که ډېر وسيع علم په ډېر زيات مقدار چاته ورکړ شي؛ نو هغه هم د الله تعالى د علم په مقابل کې قليل دى، اګر که في حدّ ذاته ورته کثير هم ويلى شو.

قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ﴿١١٠﴾

ووايه (اى محمده !) بېشکه همدا خبره ده چې زه يو بشر سړى يم په شان ستاسې، چې وحي راځي ماته، چې بېشکه همدا خبره ده چې معبود ستاسې معبود دى يو، پس هر څوک چې وي چې اميد لري د (اخروي) ملاقات د رب خپل (په ښه وجه سره)؛ نو ښايي چې (تل) عمل وکړي عمل صالح، او نه دې شريکوي په عبادت د رب خپل کې هيڅوک.

تفسير: يعنې زه ستاسې په شان يو بشر او انسان يم، الله نه يم، چې اصلاً او ذاتاً ټول علوم او کمالات ماته حاصل دي، هو ! الله تعالى جل جلاله حقّاني علوم او قُدسي معارف ماته وحي راليږي، چې په هغه کې اصل الأصول علم التوحيد دى، د هغه په طرف زه ټولو ته دعوت ورکوم، هغه څوک چې د الله تعالى د لقاء شائق وي، يا د ده سره مقابل کېدلو څخه خائف وي؛ نو د هغه لپاره پکار دي چې ښه ښه کارونه او اعمال له شريعته سره موافق وکړي ! او د الله تعالى په بندګۍ کې هيڅوک په هيڅ يوه درجه کې ظاهراً او باطناً مل او شريک نه کړي ! يعنې د جلي شرک په شان د رياء او نور خفي شرک څخه هم ځان وساتي، ځکه په هر عبادت کې چې د غير الله شرکت وي؛ هغه به بېرته د هم هغه عابد په مخ ويشتل کيږي.

په دغه آيت کې يې اشاره فرمايلې ده، چې د نبي علم هم متناهي او عطايي دى، او د الله تعالى د علم په شان ذاتي او غير متناهي نه دى، او همدا شان په آيت شريف کې په ښکاره أو مؤکد ډول بيان شوي چې محمد صلى الله عليه وسلم بشر أو انسان دى، امتياز يې له نورو خلکو څخه دادى چې د الله تعالى لخوا ورته وحي کيږي او د رسالت په منصب مشرف او ګمارل شوى دى، نو هغه څوک چې د هغه له بشريت څخه انکار کوي او نور يې بولي په ښکاره د قرآنکريم د نصوصو مخالفت کوي.

تمّت سورة الكهف بفضل الله تعالى ومنّه، ولله الحمد.

سُورَةُ مَرْيَمَ

«د (مریم) سورت مکي دی، پرته له (۵۸) او (۷۱) آیتونو څخه چې مدني دي، (۹۸) آیتونه او (۶) رکوع لري، په تلاوت کې (۱۹) او په نزول کې (۴۴) سورت دی، وروسته د «فاطر» له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

كٓهٰيٰعٓصٓ ﴿١﴾ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهُۥ زَكَرِيَّآ ﴿٢﴾

(دغه چې وروسته لوستلي کیږي) ذکر د رحمت مهربانۍ د رب ستا دی پر بنده خپل زکریا.

تفسیر: زکریّا علیه السلام د «بني اسرائیلو» د جلیل القدرو انبیاوو څخه دی، په بخاري شریف کې راغلي دي، چې ده د نجارۍ (ترکانۍ) کار او د خپل لاس د کتې ډوډۍ به یې خوړله، د ده قصه پخوا له دې نه د آل عمران سورت په (۴) رکوع ځمونږ د دې پښتو تفسیر کې لیکلې شوې ده، هلته دې بیا ولوستل شي !.

إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيًّا ﴿٣﴾

کله چې غږ (سوال) یې وکړ رب خپل ته غږ (سوال) ورو (په نیمه شپه کې).

تفسیر: وایي چې د شپې په تیاره او خلوت کې په ورو غږ سره لکه چې د دعاء اصله قاعده ده دعا وکړه، ځکه چې داسې دعاء له ریاء څخه لرې او د اخلاص له کماله معموره وي، لکه چې د «الأعراف» سورت په (۷) رکوع کې تېر شو: ﴿ٱدْعُوا۟ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً﴾، ښایي دغه خیال یې هم په زړه کې ګرځېدلی وي چې زه په دغه زړوالي کې ځوی غواړم، که راپه برخه نشي؛ نو اوربدونکي خلق به راپورې خاندي، برسېره په هغه په زوړتوب کې طبعًا غږ هم ورو کیږي، او په طبیعي ډول سره هم زاړه ورو ورو غږیږي.

قَالَ رَبِّ إِنِّى وَهَنَ ٱلْعَظْمُ مِنِّى وَٱشْتَعَلَ ٱلرَّأْسُ شَيْبًا وَلَمْ أَكُنۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ﴿٤﴾

وویل (زکریا پخپله دعاء کې) ای ربه ځما ! بېشکه زه چې یم سست ضعیف شوي دي ټول هډوکي له ما څخه او شعلې وهي سر (ځما) له جهته د سپینوالي، حال دا چې هیڅېرې نه یم پاتې شوی په سوال له تا نه ای ربه ځما محروم ناامیده.

تفسیر: یعني په ښکاره ډول سره د موت وخت قریب دی، ځما د سر په ویښتانو کې د زوړتوب سپینوالی ځلیږي، او زه تر هډوکو پورې هم وچ شوی یم، نو ای پاک الله تعالی ! تا په خپل فضل او رحمت سره تل ځما دعاوې قبولې کړې دي، او په مخصوصو مهربانیو سره دې روږدی (بلد) او عادي ګرځولی یم، نو اوس په دغه آخري وخت او زوړوالي کې به زه څرنګه ګمان وکړم چې ځما دعاء به نه قبلوي؟ او له خپلې مهربانۍ او رحمت څخه به مې بې برخې او بې هیلې وګرځوې؟.

وَإِنِّي خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِن وَرَائِي وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا فَهَبْ لِي مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا ﴿٥﴾ يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ
آلِ يَعْقُوبَ ۖ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ﴿٦﴾

او بېشکه زه ویرېږم له دې خپلوانو (خپلو) له وروسته (د مړکه) ځما (د خرابولو د دین ستا)، او
ده ښځه ځما شنډه؛ نو وبخښه ماته له طرفه خپله یو متولي (د دیني امورو حق وارث). چې میراث
یوسي له ما څخه (دیني امور) او میراث یوسي (علم او حکمت) له آل د یعقوب نه، او وګرځوې
دی ای ربه ځما غوره کړی شوی.

تفسیر: یعنې زه زوړ او سپین ږیری یم، او ښځه مې هم شنډه ده، د وړوکي پیدا کېدلو ظاهري سامان هیڅ نشته، لیکن ته پخپل لامحدوده قدرت او رحمت سره ماته هلک راعطاء کړی ! چې دیني خدمات ایفاء او سنبال کړي، او ستا د دغه مقدس أمانت بار پر خپلو اوږو واخیستی شي، ځما له لاسه په دغه ضعیفي او زړوالي کې څه کېدی شي، زړه مې غواړي چې یو داسې لایق ځوی ولرم، چې د خپل پلار او نیکونو مقدسه وظائف انجام او د دوی د علم او د حکمت او د نبوّت د کمالاتو وارث شي.

تنبیه: له صحیحه أحادیثو څخه ثابت دي، چې د انبیاوو علیهم السلام په مال کې وراثت نه جاري کیږي، د دوی وراثت د علم او حکمت په دولت کې نافذ کیږي، پخپله د أهل التشیع د «کافي کليني» له مستنده کتابه هم په «روح المعاني» کې د همدغه مضمون څو روایات نقل کړی شوي دي، لهذا متعیّن دي چې په ﴿يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ﴾ کې مالي وراثت نه دی مراد چې د هغه تایید پخپله د آل یعقوب څخه کیږي، ځکه ظاهر دی چې د ګرد آل یعقوب د اموالو او املاکو وارث یواځې د زکریا علیه السلام ځوی به څه ډول کېدی شو؟ بلکه همدغه د وراثت ذکر په دغه موقع کې دغه راښکاره کوي، چې مالي وراثت نه دی مراد، ځکه چې دغه په ګرده دنیا کې مسلّمه ده چې ځوی د خپل پلار د مال وارث کېدی شي، نو بیا په دعاء کې د هغه ذکر چتي (فضول) او بېکاره وو، داسې خیال کول چې زکریّا علیه السلام د خپل مال او دولت په فکر او اندېښنه کې وو ،چې چېرې دغه مال او شته ځما له کوره ونه وځي، او دیني اعمامو او تربورانو او نورو خپلوانو کره لاړ نشي؛ نهایت سپک او ټیټ خیال دی.

يَا زَكَرِيَّا إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ اسْمُهُ يَحْيَىٰ لَمْ نَجْعَل لَّهُ مِن قَبْلُ سَمِيًّا ﴿٧﴾

ای زکریا ! بېشکه مونږ زېری درکوو تاته په یو داسې هلک چې نوم یې یحیی دی، نه مو دی
ګرځولی ده ته پخوا له دې نه په دغه نامه (او صفت بل همنامه).

تفسیر: یعنې دعا یې قبوله او د هلک زېری ورته وکړ شو، چې د هغه د نامه تجویز هم پخپله حق تعالی پخوا له تولّد په (یحیی) سره وفرمایل، او اسم هم داسې عجیب او په زړه پورې چې له دې نه پخوا پر بل هیچا نه وو ایښی شوی.

ځینو اسلافو دلته د (سمي) معنی په (شبیه) سره اخیستې ده، یعنې په دغه شان ـ صفت او ممیزه اخلاقو پخوا بل څوک نه دي تېر شوي، ښایي چې دغه مطلب وي چې له زوړ نارینه او له زړې ښځې څخه تر نن ورځې پورې داسې یو هلک نه دی پیدا کړی شوی.

قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا ﴿٨﴾

وویل (زکریا) ای ربه ځما ! څرنګه به وي ما لره هلک، او ده ښځه ځما شنډه، او په تحقیق
رسېدلی یم زه له ډېر زوړوالي نه ډېر ضعف ته.

تفسیر: د انسانانو دغه دستور او قاعده ده، کله چې کوم غیر متوقّع خبره یا فوق العاده زېرى واوري؛ نو د زیات طمانیت او استلذاذ لپاره د هغه پوښتنه څو څو ځلې کوي، او له هرې خوا د هغه په پوښتنې او لازمي تپوسونو او ضروري فکرونو کې بوخت کیږي، او د دغه تحقیق او تفحص او تیقن څخه نوی نوی خوند اخلي، او ضمناً هغه خبره ښه پخه او مؤکده کوي، نو د زکریّا علیه السلام د دغه سؤال منشأ هم همدا ده.

قَالَ كَذٰلِكَ ۚ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَّقَدْ خَلَقْتُكَ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْـًٔا ۝٩

وفرمایل (ملائک): همداسې دی، فرمایلي دي رب ستا چې دا کار پر ما اسان دی، او په تحقیق پیدا کړی مې یې ته پخوا له دې نه، او نه وې ته هیڅ ځیز.

تفسیر: دا د تعجّب کومه خبره نه ده، په همدغسې حالاتو کې ته د هلک پلار کېدونکی یې، او دغه د الله تعالی مشیت هرومرو پوره کېدونکی دی.

﴿قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ﴾ الآیة ـ یعنې که ستا په نزد د ظاهري اسبابو په اعتبار یو شی مشکل او سخت وي؛ نو الله تعالی جلّ جلاله ته هغه او نور ګرد مشکل کارونه له سره سخت نه دي، نو د الله تعالی د عظیمه وو قدرتونو په مقابل کې هر شی آسان دی، انسان دې ډومبی خپل وجود ته وګوري، چې دی پخپله په یوه زمانه کې هیڅ یو شی نه وو، تر دې حده پورې چې له سره د نامه او ننې خاوند هم نه وو، نو الله تعالی دی له کتمه د عدمه په وجود راوړ، نو بیا همدغه مطلق قادر چې یو محض لا شي څیز څخه شی جوړوي، آیا هم هغه لوی ذات د یوه زاړه نارینه او زړې شنډې ښځې څخه یو هلک نشي پیدا کولی؟ ! پر دغه فعل خو په اولی طریقه سره ښایي چې قدرت ولري.

قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ۭ قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ۝١٠

وویل (زکریّا له ډېرې خوشالۍ) ای ربه ځما ! وګرځوه ماته یوه نښه، وفرمایل (الله) چې نښه ستا دا ده چې ته به خبرې نشې کولی له خلقو سره درې شپې (او ورځې پرله پسې) په دې حال چې روغ او جوړ به اوسې.

تفسیر: یعنې سره له صحته او روغوالي هر کله چې تا ونشوئ کولی چې له خلقو سره خبرې اترې وکړې؛ نو هلته وپوهېږه چې حمل قرار نیولی دی.

فَخَرَجَ عَلٰي قَوْمِهٖ مِنَ الْمِحْرَابِ فَاَوْحٰٓى اِلَيْهِمْ اَنْ سَبِّحُوْا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ۝١١

پس ووت (زکریّا) پر قوم خپل له خپل محراب (حجرې یا معبد) څخه پس اشاره یې وکړه دوی ته داسې چې تسبیح وایئ تاسې په صبا او ښکا کې.

تفسیر: یعنې کله چې هغه وخت ورسېد؛ نو د ده ژبه له خبرو او اترو څخه بنده شوه، نو له خپلې حجرې څخه د باندې ووت، او خلقو ته یې په اشاره سره وویل چې سبا او ښکا تاسې پاک الله یادوئ ! لمونځونه کوئ ! په تسبیح او تهلیل کې مشغول او لګیا اوسئ ! دغه وینا یا حسب المعمول به د پخوانیو مواعظو او نصائحو په شان وې، یا د الهیه د دغه نعمت د احساسه وروسته به یې غوښتي وي، چې نور خلق هم د ده د حال سره شریک شي، ځکه چې پر زکریّا علیه السلام حکم شوی وو، لکه چې د آل عمران په سورت کې راغلي دي چې په دغو دریو ورځو کې په ښه شان سره الله تعالی یادوه ! او خاص د تسبیح لفظ به یې ښایي د دې لامله اختیار کړی وي؛ چې علی الأکثر د عجیبه وو او غریبه وو مظاهرو او مناظرو د لیدلو په وخت کې سړی ﴿سُبْحَانَ اللهِ﴾ وایي، (وفرمایل الله پس له تولّد د یحیی چې):

يَٰيَحۡيَىٰ خُذِ ٱلۡكِتَٰبَ بِقُوَّةٖۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡحُكۡمَ صَبِيّٗا ١٢

ای یحیی ! واخله دغه کتاب (تورات) په قوّت (د زړه سره)، او ورکړی وو مونږ دغه یحیی ته حکم (حکمت او نبوّت) په دغه حال کې چې دی هلک وو.

تفسیر: یعنی تورات او نورې آسماني صحیفې چې پر تا یا پر نورو انبیاوو نازلې کړی شوي دي؛ په ښه مضبوطه او کوښښ سره یې ټینګ کلک ونیسه !، او د هغو پر تعلیماتو هم ته په ښه شان سره عمل وکړه !، او هم یې پر نورو خلقو د هغو په تعمیل کې اقدامات وکړه !.

د ډېرو علماوو په نزد الله تعالی د خپل عمومي عادت په خلاف یحیی علیه السلام ته په همدغه هلکتوب کې نبوّت هم عطاء فرمایلی وو، والله أعلم.

وَحَنَانٗا مِّن لَّدُنَّا وَزَكَوٰةٗۖ وَكَانَ تَقِيّٗا ١٣ وَبَرَّۢا بِوَٰلِدَيۡهِ وَلَمۡ يَكُن جَبَّارًا عَصِيّٗا ١٤

او (بل ورکړی وو مونږ یحیی لره رحمت مهرباني) چې مهربان وو له نزد خپله او پاکي (له معاصیو) او وو (یحیی) پرهېزګار. او نېکوکار پر مور او پلار خپل، او نه وو سرکښه نافرمانه (له ربه او پخپل سر).

وَسَلَٰمٌ عَلَيۡهِ يَوۡمَ وُلِدَ وَيَوۡمَ يَمُوتُ وَيَوۡمَ يُبۡعَثُ حَيّٗا ١٥

او سلامتیا دې وي پر دغه (یحیی له جانبه د الله) په هغه ورځ چې پیدا کړی شوی دی (له مسه د شیطانه) او په هغه ورځ چې مري به دی (له سکرات الموت او له عذاب القبر) او په هغه ورځ چې پورته کړ شي ژوندی (له عذاب د قیامت).

تفسیر: کوم سلام چې الله تعالی پر خپل بنده لیږي؛ هغه محض د تشریف او عزّت زیاتولو لپاره وي، چې د هغه مطلب او معنی دا ده، چې په ده باندې هیڅ انتقاد (نیونه) او مؤاخذه نشته، دلته د ﴿يَوۡمَ وُلِدَ﴾ ﴿وَيَوۡمَ يَمُوتُ﴾ ﴿وَيَوۡمَ يُبۡعَثُ حَيّٗا﴾ څخه د اوقاتو او احوالو د تعمیم غرض دی، یعنې د ولادت له وخته نیولې د موت تر وخته پورې، او له موته نیولې تر قیامته پورې په هیڅ وخت کې پر یحیی علیه السلام هیڅ قسم د الله تعالی مؤاخذه نشته، او تل تر تله له هره آفته مأمون او مصئون دی.

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَرۡيَمَ إِذِ ٱنتَبَذَتۡ مِنۡ أَهۡلِهَا مَكَانٗا شَرۡقِيّٗا ١٦

او یاد کړه په دغه کتاب کې (قصه د) مریمې کله چې په څنګ شوه (لاړه) له کورنۍ خپلې هغه ځای ته چې (د کور په) شرقي (ډډه کې) وو.

تفسیر: یعنې لمر ختلو طرف ته لاړه او هلته یې پرده وکړه چې په پوره خشوع او خضوع سره پکې د الله تعالی عبادت او بندګي وکړي، او دغه مشرقي طرف ته تلل اتفاقي وو، د کوم فضلیت له کبله نه وو، او د دې قصې یو هدف هم دا وو چې نصاراو ته د عیسی علیه السلام او د هغې د مور بندګي او عبدیت ثابت شي او د ألوهیت اعتقاد یې باطل ثابت کړي.

فَٱتَّخَذَتۡ مِن دُونِهِمۡ حِجَابٗا فَأَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرٗا سَوِيّٗا ١٧

پس ونیوله له طرفه د دوی پرده (لپاره د عبادت او بندګی)، نو ولېږه مونږ دې ته روح خپل، پس شکل خپل یې جوړ کړ دې ته د سړي کامل.

تفسیر: یعنې جبرئیل علیه السلام د یوه ډېر ښکلي پیمخي ځلمي په صورت سره متشکل شوی ورسېد، هم هغسې چې د پرښتو عادت دی، چې عمومًا په ښو منظرو او صورتونو سره متمثل کیږي، او ممکن دی دلته د مریمې صدیقې رضي الله تعالی عنها د انتهایي عفّت او طهارت او تقوی امتحان اخیستل هم مقصود وي، چې داسې زورور دواعي او محرکات هم د دې د عفاف او تقوی جذباتو ته لږ څه حرکت هم ونشو ورکړی.

قَالَتْ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِٱلرَّحْمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيًّا ﴿١٨﴾

نو وویل (مریمې دغه ځلمي ته) بېشکه زه پناه غواړم په رحمان له تا نه که یې ته پرهېزګار سړی (نو له ما څخه په ډډه شه !).

تفسیر: صدیقې مریمې رضي الله تعالی عنها په اوله شېبه کې داسې وګڼله چې دغه کوم سړی دی، په تنهایي کې یو ناڅاپي د یوه سړي سره د مخامخ کېدلو څخه بالطبع بي بي مریمه سخته وویرېده، او د خپلې ساتنې او پت په فکر کې ولوېده، مګر معلومیږي چې د دغې پرښتې پر څېره د تقوی او طهارت د انوارو د ځلېدلو څخه فقط هم دغومره ویل کافي وګڼه چې: «زه ستا له طرفه رحمان ته پناه نیسم، که چېرې ستا په زړه کې د الله تعالی وېره وي».

قَالَ إِنَّمَآ أَنَا۠ رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَٰمًا زَكِيًّا ﴿١٩﴾

وویل (جبرئیل) بېشکه همدا خبره ده چې زه رالېږلی شوی د رب ستا یم، لپاره د دې چې وبخښم تاته (په امر د رب ستا) یو هلک صالح (پاک له معاصیو).

تفسیر: یعنې مه ویرېږه ! که ځما په نسبت ستا په زړه کې کوم خراب خیال پیدا شوی وي؛ هغه لرې کړه ! زه انسان نه یم، بلکه ستا د هغه رب له جانبه لېږلې شوې پرښته یم، او د دې لپاره راغلی یم چې د پاک الله له طرفه تاته یو پاک، صاف، مبارک، مسعود او ښه پاک هلک درعطاء کړم، په ﴿غُلَٰمًا زَكِيًّا﴾ کې دې ته اشاره ده چې هغه به د حسب او نسب او اخلاق او نورو ممیزو صفاتو په اعتبار بیخي پاک او صاف وي.

قَالَتْ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾

وویل (مریمې له ډېره تعجّبه) څرنګه به پیدا شي ما ته ځوی حال دا چې نه دی رسېدلی ماته هیڅ بشر (نه په نکاح او نه بغیر د نکاح)، او نه ومه زه هیڅېرې بدکاره.

تفسیر: د صدیقې مریمې رضي الله تعالی عنها په زړه کې الله دغه یقین ورپیدا کړ چې بېشکه دغه پرښته ده، مګر دغه تعجّب ورپیدا شو، هغه جینې چې له سره مېړه (خاوند) نه لري، چې په حلاله طریقه د ده سره یې مساس کړی شوی وي، او بدکاري یې هم نه ده کړې چې په حرامه طریقه سره به یې هلک حاصل کړی وي؛ نو دې ته د دغه رهبانیت په حالت کې پاکیزه ولد به څرنګه ورپه برخه کېدی شي؟ لکه چې زکریّا علیه السلام له دې نه په لږ عجیب بشارت باندې سوال کړی وو.

قَالَ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ

نو وویل (جبرئیل مریمې ته کار) همداسې دی (لکه چې ته وایي لیکن) فرمایلي دي رب ستا: دغه (کار) پر ما باندې آسان دی.

تفسیر: دا هم هغه جواب دی چې زکریا علیه السّلام ته ورکړی شوی وو، د همدې سورت په (۱) رکوع او همدې تفسیر کې دې بیا ولوستل شي.

وَلِنَجْعَلَهُۥٓ ءَايَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا ﴿٢١﴾

او چې وګرځوو مونږ دغه (هلک) علامه دليل (د کامل قدرت خپل) لپاره د خلقو او رحمت له (طرفه) ځمونږ، او دي (پيدا کېدل د ده بې له پلاره) يو کار مقرّر کړی شوی (له ازله).

تفسير: يعنې دغه تولّد هرومرو کېدونکی دی، او لا له پخوا څخه دغه حکم د واقع کېدلو پرې شوی دی، چې له سره په کې تخلّف نه واقع کيږي، او ځمونږ حکمت د دغې خبرې مقتضي دی چې بې د بشر د مسې محض د يوې جينې له وجوده هلک پيدا کړو، او هغه ليدونکو او اورېدونکو لپاره ځمونږ د عظيمه وو قدرتونو څخه يو لوی دليل دی، ځکه چې ګرد انسانان د نارينه وو او د ښځو له يو ځای کېدلو څخه پيدا کيږي، آدم عليه السلام مو بې د دغو دواړو څخه پيدا کړی دی، او بي بي حوّاء رضي الله تعالى عنها مو يوائې د نارينه له وجوده پيدا کړې ده، څلورم صورت يې همدغه دی چې د مسيح عليه السلام په وجود کې ظاهر شو، چې بې د نارينه له وجوده يوائې د ښځې له وجوده موجود شي، او په دغه ترتيب سره د پيدايښت څلور واړه صورتونه واقع شول، نو د عيسى المسيح عليه السلام وجود د الهي قدرت يو دليل دی، او د الله تعالى له طرفه دنيا ته د لوی رحمت سامان دی.

فَحَمَلَتْهُ فَٱنتَبَذَتْ بِهِۦ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿٢٢﴾

پس حامله شوه (مريمه) په دغه (عيسى) سره، نو په څنګ شوه سره له دغه (عيسى) يو ځای لرې ته.

تفسير: وايي چې پرښتې وپوکل؛ نو هغه حامله شوه، او ظاهره د سياق نه او مستنده خبره دا ده چې پوکل الله تبارک وتعالى کړيدي، لکه چې وايي: ﴿فَنَفَخْنَا﴾ او لکه څنګه چې د آدم عليه السلام په شان کې يې ويلي دي: ﴿وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى﴾ والله أعلم.

يعنې څه مهال (وخت) چې د حمل د وضعې وخت ورنژدې شو، نو له ډېره شرمه او حياء له ځان ګردو څخه جدا شوه، او کوم لرې ځای ته لاړه، ښايي چې دغه ځای به هم هغه وي، چې ورته «بيت لحم» وايي، دغه د «بيت المقدس» څخه اته ميله لرې دی، ذکره ابن کثير رحمه الله عن وهب رحمه الله.

فَأَجَآءَهَا ٱلْمَخَاضُ إِلَىٰ جِذْعِ ٱلنَّخْلَةِ ۖ قَالَتْ يَٰلَيْتَنِى مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا ﴿٢٣﴾

پس راوسته مريمه درد د زېږولو وېخ (تنې) د ونې د خرما ته (لپاره د تکيا، کله چې عيسى پيدا شو) وويل (مريمې له ډېرې حياء): کاشکې که مړه وی زه پخوا له دې حاله او وی زه (اوس يو څيز) هېر شوی بيخي له زړونو وتلی.

تفسير: يعنې د زېږولو د درد له شدّته د يوې زړې خرما ونې وېخ ته چې په يوه اوچت ځای کې ولاړه وه؛ پناه يې يوړه (او هلته پټه کېناسته)، په دغه وخت کې د درد له تکليفه اود جينې له دينې حيثيته د مستقبل د بدنامی او رُسوايی اندېښنې په غلبه کې يو ناڅاپه داسې يوه جمله يې هم له خولې ووته: ﴿يَٰلَيْتَنِى مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا﴾ کاشکې زه له دې شېبې څخه لا له پخوا مړه شوې وی، او په دنيا کې ځما نوم او نښان نه وی پاتې، څو په هېره سره هم د چا پر ژبه ځما نوم نه راتلی، د اضطراب، کرب او اندېښنې له شدّته هغه زېږی چې د پرښتې له خوا دې ته ورکړی شوی وو؛ ترې بيخي هېر شوی وو.

فَنَادٰىهَا مِنْ تَحْتِهَآ اَلَّا تَحْزَنِيْ قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴿۲۴﴾ وَهُزِّيْٓ اِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسٰقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴿۲۵﴾

پس غږ وکړ (پرښتې) دغې (مریمې) ته له لاندې طرفه د دې چې مه خپه کېږه، په تحقیق ګرځولې ده رب ستا لاندې (له قدمونو) ستا چینه (یا سردار چې عیسی دی). او وخوځوه (وځنډه) خپل ځان ته ښخ د خرما چې راتوی کاندې پر تا خرما پخې لوندې تازه.

تفسیر: ځینو اسلافو (دغه منادی عیسی علیه السلام بللی، او له تحت څخه د مریمې صدیقې نس یې مراد کړی دی)، د «سري» معنی یې په چینه سره کړې ده، ظاهر دی چې دغه چینه د خرق العادات په صورت بهولې شوې ده، او خرما هم بې موسمه په وچې ونې لګېدلې ده، د دغو خوارقو د لیدلو د بي بي مریمې رضي الله تعالی عنها په زړه کې تسکین او اطمینان پیدا شو، او د تفریح او خوښۍ اسباب ورمهیأ شول، او لکه چې مفسرین لیکي: په دغه حالت کې دغه شیان بي بي مریمې رضي الله تعالی عنها ته نافع او مفید هم وو، او دې ورته ضرورت هم درلود، نو ځکه د الله په حکم په همدغه اکل او شرب سره ښه ورته روغه جوړه شوه.

فَكُلِيْ وَاشْرَبِيْ وَقَرِّيْ عَيْنًا ۚ فَاِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ اَحَدًا ۙ فَقُوْلِيْٓ اِنِّيْ نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ صَوْمًا فَلَنْ اُكَلِّمَ الْيَوْمَ اِنْسِيًّا ﴿۲۶﴾

پس خوره (دا خرما) او څښه (دا اوبه)، او یخې کړه ستر ګې خپلې (په عیسی او خوشحاله شه)، پس که ولید تا له خلقو څخه یو څوک (چې د عیسی د تولّد پوښتنه یې در څخه کوله)؛ نو ووایه: بېشکه زه چې یم نذر کړې مې ده پر ځان رحمان ذات (الله تعالی) ته روژه (له کلامه)، پس له سره به خبرې ونه کړم زه نن ورځ له هیڅ یو انسان سره !.

تفسیر: یعنې که له خلقو څخه کوم سړی له تا څخه (د عیسی علیه السلام د ځېرېدلو په نسبت) څه پوښتنه وکړه؛ نو ته په اشارو سره هغوی داسې وپوهوه چې نن ورځ ما محضًا لله له ویلو څخه خپله خوله بنده کړې ده، او له تاسې سره نن هیڅ خبرې اترې نشم کولی، د دوی په دین کې دغسې نیت درست وو، او دوی به د نه ویلو روژې هم نیولې، خو ځمونږ د محمدیانو په شریعت کې داسې د کلام روژه نیول درست نه دي، او دا ووایه: بېشکه زه چې یم نذر مې منلی دی، مطلب دا دی چې «د نذري روژې نیت وکړه او بیا داسې ووایه»، او د ﴿اِنْسِيًّا﴾ قید یې ښایي ځکه لګولی وي چې (تسبیح او تهلیل او د الله شکر خو کوم) له پرښتو سره خو غږ پرم.

فَاَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا تَحْمِلُهٗ ۭ قَالُوْا يٰمَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْـــًٔا فَرِيًّا ﴿۲۷﴾

پس راغله (مریمه) سره له دغه (عیسی) قوم خپل ته چې اخیستی یې وه هغه (عیسی په غږ کې، کله چې قوم یې ولیده؛) نو وویل (یهودانو): ای مریمې په تحقیق راوړی دی (او کړی دی) تا یو څیز عجیبه مخالف له عادته.

تفسیر: یعنی عیسی علیه السلام یې پخپلې غږ کې ونیو، او د خپل قوم په مخ کې راغله، نو ګرد خلق د دغه وضعیت د لیدلو څخه هک پک، حیران او متحیر پاتې شول، او ګردو په داسې ویناوو خوله وپرانستله، ای مریمې ! تا بلا وکړله، او داسې غټه خبره دې پیدا کړه، نو ژر شه ووایه چې دغه ساختګي شی دې له کومه راوړې، له دې نه به لوی دروغ او خلاف العادت خبره څه وي چې یوه پېغله بې مېړه جینۍ داسې دعوی وکړي چې د ما کره ځوی شوی دی (بې له پلاره).

يَٰٓأُخۡتَ هَٰرُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ ٱمۡرَأَ سَوۡءٖ وَمَا كَانَتۡ أُمُّكِ بَغِيّٗا ﴿٢٨﴾

ای خورې د هارون ! نه وو پلار ستا سړی د بدۍ، او نه وه مور ستا بد عمله (نو دا ته ولې داسې شوې؟).

تفسير: يعنې پرې بد ګمانه شول، او داسې يې ورته وويل چې: ستا مور او پلار او کورنۍ له قديم الأيامه تر اوسه پورې په عفّت او عصمت او طهارت معروف دي، نو په تا کې دغه بد خصلت له کومه شو؟ د نېکانو له اولاده وو څخه د بدۍ صدور د حيرت او تعجّب وړ (لايق) وي.

تنبيه: بي بي مريمې رضي الله تعالى عنها ته يې «أخت هارون» ځکه وويل؛ چې د موسى د ورور هارون عليه السلام له نسله وه، ګواکې له «أخت هارون» څخه «أخت قوم هارون» مقصود دى، لکه چې ﴿وَٱذۡكُرۡ أَخَا عَادٍ﴾ کې يې هود عليه السلام ته د «د عاد» ورور ويلى دى، حال دا چې «عاد» د دې قوم د اصلي مورّث نوم وو، او ممکن دى د «أخت هارون» څخه د هغه ظاهري معنى مراد يې واخيسته شي، لکه چې له ځينو صحيحه وو أحاديثو څخه ظاهريږي، چې د بي بي مريمې رضي الله تعالى عنها دغه ورور يو صالح سړى وو.

فَأَشَارَتۡ إِلَيۡهِۖ

نو اشاره وکړه (مريمې) هغه ته (چې له دغه عيسى سره وغږږئ !).

تفسير: يعنې صديقې مريمې رضي الله تعالى عنها پخپل لاس سره د خپل وړوکي په لوري (چې تى يې په خوله کې وو، او د خلقو دغه ګردې خبرې يې په ځير سره اوربدې) اشاره وکړه چې تاسې پخپله له ده نه پوښتنه وکړئ !.

قَالُواْ كَيۡفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِي ٱلۡمَهۡدِ صَبِيّٗا ﴿٢٩﴾

نو وويل (خلقو) څرنګه به خبرې وکړو مونږ له هغه چا سره چې دى هغه په مهد (ځانګو يا غږږ) کې وړوکى (تى رودونکى).

تفسير: يعنې سره له دغسې شرمناکه حرکته دې ته لا ګوره چې پر مونږ ملنډې هم وهي، او مسخرې راپورې کوي، چې دغه خپل ځواب د دغه تى رودونکي ماشوم څخه واورئ ! ښه نو د يوه داسې نوي ځيږيدلي هلک سره به مونږ څرنګه سوال او ځواب وکړى شو؟.

تنبيه: ﴿مَن كَانَ فِي ٱلۡمَهۡدِ صَبِيّٗا﴾ کې د ﴿كَانَ﴾ لفظ پر دې دلالت نه کوي چې عيسى عليه السلام د خپل دغه تکلّم په وخت کې «صبي» نه وو پاتې، په قرآن عظيم کې داسې مضامين ډېر استعمال شوي دي، مثلا په ﴿وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا﴾ يا ﴿وَلَا تَقۡرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةٗ﴾ يا ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكۡرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُۥ قَلۡبٌ أَوۡ أَلۡقَى ٱلسَّمۡعَ وَهُوَ شَهِيدٞ﴾ او نورو کې د ﴿كَانَ﴾ استعمال د داسې مضمون لپاره شوى دى چې د هغه سلسله د ماضي زماني د سلسلې د پرې کېدلو سره نه وي منقطع شوې.

قَالَ إِنِّي عَبۡدُ ٱللَّهِ ءَاتَىٰنِيَ ٱلۡكِتَٰبَ وَجَعَلَنِي نَبِيّٗا ﴿٣٠﴾

وويل (عيسى) چې بېشکه زه بنده د الله يم، راکړى يې دى ماته کتاب، او ګرځولى يم زه الله نبي.

تفسير: يعنې د قوم په منځ کې همدغه خبرې او اترې کېدې چې الله تعالى مسيح عليه السلام په خبرو راوست، او د عيسى عليه السلام هغه وينا چې په دغه وخت کې يې وکړه، د دغو د هغه تردّد او د غلطو او فاسدو خيالاتو ترید يې

وکړ، چې اوس یا وروسته له دې نه د ده په نسبت قائم کېدونکي وو، «زه بنده د الله یم»، یعنې نه پخپله الله تعالی او نه د الله تعالی ځوی یم، لکه چې د نصاراوو عقیده ده، لکه چې د همدې عقیدې د ترید لپاره یې ړومبی د مسیح علیه السلام د ولادت او نورو حالاتو مفصلا بیان وفرمایه.

وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴿٣١﴾

او ګرځولی یم زه (الله) برکتناک په هر ځای کې چې اوسېږم، او تأکیدي حکم یې فرمایلی دی ماته په لمانځه سره، او په زکات سره تر څو چې زه یم ژوندی.

تفسیر: یعنې تر څو چې ژوندی یم، د هر وخت او هر ځای سره مناسب د هر قسم صلات او زکات حکم چې شوی دی؛ د هغو د شرطونو او حقوقو د رعایت سره یې برابر تل اداء کوم، لکه چې په بل ځای کې د مؤمنیو په نسبت فرمایل دي: ﴿الَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ﴾ د دې مطلب داسې نه دی چې په هر آن او هر وخت کې تل لمونځ به کوي، بلکه مراد یې دا دی چې په هر وخت او په هر قسم چې د لمانځه حکم شوی دی؛ تل په مداومت سره د هغه حکم تعمیل کوي.

وَبَرًّا بِوَالِدَتِي وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿٣٢﴾

او (ګرځولی یم زه الله) نېکي کوونکی له مور خپلې سره، او نه یې ګرزولی یم زه سرکښه بدبخته.

تفسیر: هر کله چې هیڅوک یې پلار نه وو، نو یواځې د مور نوم یې واخیست، دغه ګردې جملې چې د ماضي په صیغو سره راوړی شوي دي؛ بېشکه د هغوی معاني په ماضي سره اخیستلی کیږي، لیکن داسې چې متیقن الوقوع مستقبل یې ماضي فرض کړی دی، لکه چې په ﴿أَتَىٰ أَمْرُ اللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ﴾ کې، هم داسې مسیح علیه السلام په خپل هلکتوب کې د ماضي د صیغو په استعمالولو کې تنبیه ورکړه، چې د دغو ګردو شیانو لیدل کېدل په مستقبل کې داسې یقیني او قطعي دي، لکه چې واقع شوي دي، مسیح علیه السلام د دغه خارق العادت خبرو اترو، او له هغو اوصافو اوخصائلو چې بیان کړل شو؛ په ډېر بلاغت سره د هغه ناپاک تهمت تردید وشو؛ چې د ده پر ماجده مور لګولی شوی وو، اول خو د داسې ووړکي وینا او داسې جامع او مؤثر کلام طبعًا د دښمنانو چپ کوونکی وو، بیا په داسې یو ووړکي کې چې دومره سوچه خصال ومومندل شي؛ نو ښکاره ده چې هغه (العیاذ بالله) څرنګه ولد الزناء کېدی شي، لکه پخپله د دوی له دې اقرار څخه هم ظاهریږي: ﴿وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا﴾ چې دوی فروع هم د اصوله سره سم غوښتل.

وَالسَّلَامُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدتُّ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا ﴿٣٣﴾

او (وویل عیسی) سلام دی پر ما په هغه ورځ چې ځېرولی شوی یم (له مسه د شیطانه او نورو بدیو او خرافاتو) او په هغه ورځ چې مرم به (له عذابه د نزعې او د قبره)، او په هغه ورځ چې پورته به کړی شم ژوندی (له عذابه د قیامت).

ذَٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴿٣٤﴾

دغه (موصوف) عیسی ځوی د مریمې دی، (فرمایلي دي الله په شان د عیسی کې) خبره حقه رښتیا هغه چې په دې کې سره جګړې کوي (خلق).

تفسیر: یعنې د مسیح علیه السلام شان او صفت همدغه دی چې پاس بیان شو، په یوه رښتیا او ښکاره خبره کې خلقو چتې (فضول) جګړې او مناقشې پیدا کړي دي، چې یو تړې الله جوړوي، بل یې د الله تعالی ځوی ګڼي، بل یې کذّاب

او مفتري بولي، بل د ده پر نسب او نورو طعنې وهي، رښتيا خبره خو همدغه ده چې ښکاره کړی شوه چې مسیح علیه السلام الله نه دی، بلکه د الله تعالی یو مقرّب بنده دی، کاذب او مفتري نه دی، بلکه یو رښتین نبي دی.

مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍ ۖ سُبْحَانَهُ ۖ إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٣٥﴾

نه ښايېږي الله ته چې ونيسي ولد، پاکي ده ده ته (له نيولو د ولد)، هر کله چې حکم وکړي دې د يوه کار؛ پس بېشکه همدا خبره ده چې وايي هغه ته (موجود) شه پس هغه موجود شي.

تفسير: هغه ذات ته چې د ده د يوه (کن ـ شه !) څخه هر شی موجودېږي؛ د ځوی او لمسي څه ضرورت دی؟ آيا (العياذ بالله) اولاد به د ضعف په وخت کې ورسره کومک او مرسته کوي؟ يا د مشکلاتو په وخت کې به يې لاس سپکوي؟ يا وروسته له هغه به د ده نوم ژوندی ساتي؟ او که داسې کومه شبهه درپيدا شوي وي، چې عموماً انسانان له مور او پلاره پيدا کيږي نو د مسیح علیه السلام پلار څوک دی؟؛ نو د هغه ځواب همدغه د ﴿كُن فَيَكُونُ﴾ په جمله کې راغی، يعنې داسې مطلق قادر ته دغه څه اشکال لري چې يو هلک بې له پلاره پيدا کړي؟ که نصرانيان الله تعالی د مسیح علیه السلام پلار او صديقه مريمه د ده مور ګڼي؛ نو العياذ بالله د مېړه (خاوند) او د ښځې د نورو تعلقاتو اقرار به هم کوي؟ سره له دې چې پلار يې ودروي، نو د تخليق طريقه خو به هم هغسې نه وي چې بالعموم په والدينو کې ده، نو بيا په بې پلاره پيدا کولو کې به څه اشکال وي؟.

وَإِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۗ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٣٦﴾ فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِن بَيْنِهِمْ ۖ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا مِن مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٣٧﴾

او (وويل عيسی) بېشکه الله رب ځما دی او رب ستاسې دی، پس عبادت وکړئ تاسې د الله، هم دغه لاره ده سمه صافه برابره. نو بيا اختلاف وکړ ډلو (د نصاراوو په باب د عيسی کې) له منځ د دغو (خلقو)، نو خرابي ده لپاره د هغو کسانو چې کافران (منکران) شوي دي له حاضرېدو (راتلو) د هغې ورځې ډېرې لويې (د قيامت نه).

تفسير: دغه د چا خبره ده؟ د ځينو په نزد دا د مسیح علیه السلام مقوله ده، ګواکې پخوا له دې نه د مسیح هم هغه خبرې چې له ﴿قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ﴾ الآية ـ څخه نقل کړی شوي دي، دا د هغه تکمله شوه، په منځ کې د مخاطبينو د تنبيه لپاره له ﴿ذَٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ﴾ څخه د الله تعالی کلام وو.

ځما په نزد بهتر دا دی چې دغه د ﴿وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ﴾ الآية ـ سره ولګولی شي، يعنې (ای محمده صلی الله عليه وسلم !) په کتاب کې د مريمې او د مسیح علیه السلام د حال هغه مذکور چې شوی دی؛ وايې وره ! او ووايه چې ځما او ستاسې رب الله دی، يوائې د همدغه عبادت وکړئ ! ځوی او لمسی ورته مه دروئ ! الله تعالی د توحيد داسې سمه صافه لاره درښوولې ده چې هيڅ لوړه، ژوره او کوږوالی نه لري، او ګردو انبياوو هم د هم هغه په طرف لار ښوونه کړې ده، ليکن خلقو ډېرې فرقې جوړې کړي دي، او بېلې بېلې لارې يې ايستلي دي، نو هغه کسان چې له توحيد څخه انکار کوي؛ نو هغوی ته د ډېرې هولناکې ورځې (قيامت) له تباهی څخه خبردار کېدل په کار دي، چې خامخا راتلونکې ده.

أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ يَوْمَ يَأْتُونَنَا لَٰكِنِ الظَّالِمُونَ الْيَوْمَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾

څه ډېر ښه اورېدونکي به وي دوی اوځه ډېر ښه ليدونکي به وي دوی په هغې ورځې کې چې رابه شي دوی مونږ ته، ليکن ظالمان نن ورځ په ګمراهۍ ښکاره کې دي.

تفسیر: یعنې نن چې اوربدل او لیدل مفید دي؛ دوی بیخي کاڼه او ړانده شوي دي، او د قیامت په ورځ چې لیدل او اوربدل له سره فائده نه رسوي؛ د دوی سترګې او غوږونه خلاصیږي، او په دغې ورځې کې به داسې خبرې اوري چې زړونه یې ترې پرق چوي، او داسې مناظر او نندارې به ګوري چې د هغو د لیدلو څخه به د دوی څېرې تکې تورې الوځي (نعوذ بالله منه !).

وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٩﴾

او وویروه ته دوی له ورځې د حسرت (او ارمانه) کله چې فیصله کړی شي کار (د حساب او کتاب)، حال دا چې دوی (په دنیوي) غفلت کې دي، او دوی ایمان نه راوړي.

تفسیر: کفّارو ته به د افسوس او ارمان کولو ډېرې مواقع وردمخه کیږي، او آخري موقع به هم هغه وي کله چې مرګ د یو ګډې پشان راوستی شي، او د جنت او د دوزخ په منځ کې د ګردو په مخ کې په داسې حال کې چې ګرد به ورته ګوري؛ ذبح کاوه شي، او داسې یو غږ به کیږي چې: «جنتي دې په جنت کې او دوزخي دې په دوزخ کې د تل لپاره پاتې وي، وروسته له دې نه به مرګ هیڅوا ته نه راځي»، نو په دغه وخت کې کافران بالکل ناامیده کیږي، او د حسرت لاسونه به سره منبي او ګوتې به چیچي.

﴿وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ﴾ یعنې په دغه وخت کې دوی د داسې ورځې په راتګ باور نه کوي، خو څه مهال (وخت) چې د قیامت له لویو مصائبو سره مخامخ کیږي؛ نو دلته به وایي چې: کاشکې هلته مو سترګې خلاصې کړې وی، او پخپلو نفعو او زیانونو پوهېدلي وی، مګر د دغې ورځې حسرت او افسوس دوي ته هیڅ په درد نه خوري.

إِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْأَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا وَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ﴿٤٠﴾

بېشکه مونږ چې یو همدا مونږ وارث کیږو د ځمکې او د هغه چا چې پر دغه ځمکې دي، او خاص مونږ ته به راوستی شي دوی (لپاره د جزا).

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ ۚ

او یاد کړه (ای محمده ! امت خپل ته) په کتاب (قرآن) کې (قصه د) ابراهیم.

تفسیر: د مکې مکرّمې مشرکانو داسې دعوی کوله، چې دوی د ابراهیم علیه السلام له اولادې او د هم هغه پر دین قائم دي، نو دا یې هغوی ته وروښوول چې ستاسې د پلار ابراهیم علیه السلام رویه د بتانو په نسبت څه ډول وه؟ که د آباؤو او اجدادو تقلید کوئ؛ نو د داسې یو پلار تقلید وکړئ ! او له مشرکو پلرونو او نیکه ګانو نه هم هغسې مرور او بېزاره شئ؛ لکه چې ابراهیم علیه السلام ترې بېزاره شوی وو.

إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴿٤١﴾

بېشکه دغه (ابراهیم) وو صدّیق (ډېر رښتینی) نبي.

تفسیر: د «صدّیق» معنی دا ده چې ډېر زیات رښتیا ویونکی چې پر خپلو خبرو د عمل کولو له پلوه بیخي رښتین ثابت او د خپل قول او عمل توافق په رښتیا سره ګردو ته ښیي، یا خو «صدیق» هغه رښتین او پاک طینت سړي ته وایي چې د ده په زړه کې د رښتیا قبلولو لپاره نهایت اعلی اکمل استعداد موجود وي، هر هغه خبره چې د الله تعالی له جانبه ور ورسیږي؛ هغه بلا توقفه د ده په زړه کې ځای ونیسي، او بیخي د شک او تردّد ځای او ګنجایش په کې پاتې نه شي،

ابراهیم علیه السلام په هرې یوې معنی سره «صدّیق» وو، او کله چې د «صدّیقیت» لپاره «نبوّت» نه دی لازم؛ نو ځکه یې وروسته د «صدّیقاً» سره «نبیّاً» هم وفرمایل، او پر نبوّت یې هم تصریح وکړه، له همدې ځایه معلوم شو چې د کذبات ثلاثه حدیث او په «نحن أحق بالشک من إبراهیم» او نورو روایاتو کې د کذب او شک هغه معنی نه ده مراده، چې د کلام له ظاهر څخه مفهومیږي.

إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنْكَ شَيْئًا ﴿٤٢﴾

کله چې وویل (ابراهیم) پلار خپل: ته ای پلاره ! ولی عبادت کوې ته د هغه څیز چې نه اوري او نه ویني او نه دفع کولی شي له تا نه هیڅ څیز؟.

تفسیر: یعنې هغه چې ګوري او اوري او په مشکلاتو کې هم پکار راځي، مګر واجب الوجود نه وي؛ د هغه عبادت هم نه دی جائز، څه جواز د دې چې د یوې بې ځانه تیږې (ګټې) یا بې روحه بت چې نه لیدی شي او نه اوربدی شي او نه ځمونږ څه پکار راځي او پخپله ځمونږ په لاسونو جوړ شوی او تورلی شوی دی؛ هغه معبود ودروو؟ نو دغه عمل د هیڅ یو عاقل او پوه سړي کار له سره نشي کېدی.

يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا ﴿٤٣﴾

ای پلاره ځما ! بېشکه زه چې یم په تحقیق راغلی دی ماته له علمه هغه قدر چې نه دی راغلی تاته، نو متابعت وکړه ځما؛ چې وبه ښیم تاته لاره سمه برابره.

تفسیر: یعنې الله تعالی ماته د توحید او د معاد او د نورو صحیح علم راکړی دی، او د شریعت له حقائقو څخه یې واقف کړی یم، که ته ځما متابعت وکړې؛ نو زه به دې پر داسې سمې صافې لارې بیایم؛ چې د الله تعالی تر رضاء پورې رسیږي.

يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ ۖ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾

ای پلاره ځما ! مه کوه عبادت د شیطان (په ارتکاب د منهیاتو) ! بېشکه شیطان دی له رحمان څخه ډېر نافرمانه (سرکښه).

تفسیر: د بُتانو عبادت په شیطاني اغواء او لمسون کیږي، او شیطان د دغه حرکت له لیدلو څخه ډېر زیات خوشالیږي، نو په دې لحاظ ګواکې د بُتانو عبادت د شیطان عبادت دی، او د شیطان عبادت ګواکې د «رحمان» څخه انتهایي نافرماني ده، ښایي د ﴿عَصِيًّا﴾ په لفظ سره یې دې لوري ته هم توجه ورکړي وي، چې د شیطان د ډومبنی نافرمانی اظهار په هغه وخت کې شوی دی چې ستاسې د پلار آدم علیه السلام په مقابل کې د تعظیمي سجدې حکم ورکړی شوی وو، لهذا د آدم علیه السلام اولادې ته د ډېر شرم او ننګ ځای دی چې د «رحمان» څخه مخ واړوي، او له شیطان سره خپله یارانه ونښلوي، یا هغه قدیمي ازلي دښمن خپل معبود وګرځوي.

يَا أَبَتِ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِنَ الرَّحْمَٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيْطَانِ وَلِيًّا ﴿٤٥﴾

ای پلاره ځما ! بېشکه زه چې یم ویرېږم له دې نه چې وبه رسیږي تاته عذاب له «رحمان» څخه (لامله د متابعت د شیطان)، پس شې به ته شیطان ته دوست (ملګری په دوزخ کې).

تفسیر: یعنې د «رحمان» د عظیمو رحمتونو اقتضاء دا ده چې پر ګردو بندګانو یې شفقت اومهرباني وي، لیکن ستا د بدو اعمالو له شامته ویره ده، چې همدغه حلیم رحیم او کریم الله تعالی هم په قهر نشي، او پر تاسې کوم سخت آفت

نازل نه کړي، چې په هغه کې د اخته کېدلو لامله به تل تر تله د شیطان رفیق او ملګری شي، یعنې د کفر او شرک له مزاولته به په مستقبل کې د ایمان او توبې توفیق درپه برخه نشي، او د اولیاء الشیاطین په ډله کې به شامل شي، او په دائمي عذاب کې به وغورځاوه شي، عمومًا مفسرینو دغه معنی اخیستې ده، لیکن شاه صاحب لیکي: «یعنې د کفر له وباله که کوم آفت راشي؛ نو له شیطانه به مدد غواړي، یعنې له بتانو څخه، اکثر خلق په همدغسې وخت کې شرک کوي»، والله أعلم.

قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا ﴿٤٦﴾

وویل (آزر پلار د ابراهیم) آیا مخ ګرځوونکی یې ته له (عبادت د) معبودانو ځما ای ابراهیمه؟ که منع نشوې ته (له دې کاره) نو خامخا وبه ولم هرومرو تا (سنګسار به دی کړم) په تیږو (ګټو) (یا په بدو خبرو) سره، او ترک مې کړه (او لرې شه له مانه) ډېر مدّت (چې ضرر مې در ونه رسیږي).

تفسیر: د ابراهیم علیه السلام پلار (آزر) د خپل ځوی د دغه تقریر له اوربدلو څخه وروسته ده ته وویل: «معلومیږي چې ته ځمونږ له معبودانو څخه بد عقیده یې، بس دی دا خپل وعظ او نصیحت او بد اعتقاد پرېږده، که نه ته به بله کومه سخته خبره له ما څخه واورې، بلکه ځما په لاس به سنګسارېږې، که خپل خیر غواړې؛ نو له ما څخه تر یوه مدّت لرې شه ! چې زه نه غواړم چې ستا رنګ وګورم، او پخوا له دې نه چې زه پر تا لاس پورته کړم؛ ته له دې ځایه لرې شه !».

قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ ۖ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي ۖ إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا ﴿٤٧﴾

وویل (ابراهیم) سلام (د متارکې د خبرو) دې وي په تا باندې، ژر به مغفرت غواړم تاته له رب خپل نه (څو مسلمان شې)، بېشکه چې الله دی پر ما ډېر مهربان.

تفسیر: دغه د رخصت یا د متارکت سلام دی، لکه چې ځمونږ په محاوراتو هم په داسې مواقعو کې داسې ویلی کیږي، چې که هغه خبره یا کار داسې وشي؛ نو ځما درته سلام دی، لکه چې په (۲۰ جزء د القصص سورت په (۵۵) آیت (۶) رکوع) کې هم داسې یو آیت لولو: ﴿وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ وَقَالُوا لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِي الْجَاهِلِينَ﴾.

شاه صاحب رحمه الله لیکي: «معلوم شو که په دیني خبره مور او پلار خپه شي، او خپل ځوی له کوره وباسي، او ځوی په خوږه ژبه او مؤدبه وینا ترې بیلتون اختیار کړي؛ نو دغسې هلک نه عاق کیږي».

﴿سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي﴾ الآیة ـ امید شته چې پاک الله پخپلې مهربانۍ به ځما د پلار ګناه معافوي، ابراهیم علیه السلام د استغفار وعده ابتداءً فرمایلې وه، کله چې د استغفار په وخت کې څه مهال (وخت) چې د الله تعالی مرضي ورمعلومه شوه؛ نو استغفار یې موقوف کړ، دغه بحث د توبې (براءة) په سورت په (۱۱۳) آیت (۱۴) رکوع کې د دې آیت په فائده کې تېر شوی دی: ﴿مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ﴾ هلته دې د دې تفسیر کې ولوستل شي.

وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ وَأَدْعُو رَبِّي عَسَىٰ أَلَّا أَكُونَ بِدُعَاءِ رَبِّي شَقِيًّا ﴿٤٨﴾

او په څنګ به شم له تاسې (ټولو بت پرستانو) او له هغه څه چې تاسې یې عبادت کوئ غیر له الله، او عبادت به کوم (یواځې) د رب خپل، امید لرم د دې چې نشم زه په عبادت د رب خپل کې بدبخته (ناامیده لکه چې تاسې شوي یئ).

تفسیر: کله چې ځما د پند او نصیحت هیڅ اثر پر تاسې نه لویږي، بلکه بالعکس ځما ویرولو او ډارولو ته هڅه هم کیږي؛ نو اوس زه پخپله ستاسې په دغه کلي کې نه پاتې کېږم، او تاسې سره له ستاسې باطلو معبودانو پرېږدم، او له دې

وطنه هجرت کوم، څو له تاسو څخه ګوښې (بېل) کېنم، او د زړه په اطمینان سره د الله واحد عبادت وکړی شم، د الله تعالی له فضله او کرمه کامل امید شته، چې زه د ده بندګي وکړی شم، او په کې محروم او ناکامه پاتې نشم، کله چې په غربت او بېکسی کې هم د ده عبادت وکړم، او د الله تعالی لوی دربار ته دعاء وکړم؛ ضرور یې مستجابوي، ځما الله سمیع بصیر او علیم دی، او ستاسې د تیرو (ګټو) او لرګیو باطل معبودان داسې دي، چې هومره ناري ورته ووهئ، او ورته وژاړئ، خو بیا هم ستاسې دعاوې نه اوري، او په درد مو نه خوري.

فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ﴿٤٩﴾

کله چې په څنګ شو (ابراهیم) له دوی په هجرت سره او له هغه څیزه (چې دوی یې) عبادت کولو غیر له الله نه؛ نو وبخښل مونږ ده ته (ځوی) اسحاق او (لمسی) یعقوب، او هر یو (له دوی دواړو) ګرځولی وو مونږ نبي.

تفسیر: یعنې د الله تعالی په لاره کې یې هجرت وکړ، او له خپلو اقاربو او خپلوانو څخه لرې ولوېد، الله تعالی ده ته له وطنه زیات شیان ورعطاء کړل، چې د غریب الوطنۍ وحشت ترې لرې شي، او هلته انس او سکون حاصل کړي، ښایي دلته د اسماعیل علیه السلام ذکر ځکه نه وي فرمایلی چې هغه له ده سره نه وو، بلکه دی یې په وړو کتوب له خپله ځان نه بېل کړی وو، او هم د هغه تذکره مستقلا راتلونکې ده.

وَوَهَبْنَا لَهُمْ مِنْ رَحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴿٥٠﴾

او بخښلی وو مونږ دوی (درې واړو) ته له رحمته خپل (نبوّت او حکمت) او ګرځولې وه مونږ دوی ته (یعنې ابراهیم او ځامنو ته یې) ژبه د صدق ربښتینې ډېره پورته مشهوره.

تفسیر: یعنې الله تعالی له خپل خاص رحمت څخه خلیل الله علیه السلام او د ده کورنۍ ته د نبوّت او حکمت لویه برخه عنایت کړه، او په دنیا کې یې د ده خبره پورته کړه، او د تل لپاره یې د ده د خیر ذکر جاري کړ، لکه چې په ګردو مذاهبو او مللو کې د ده تعظیم او توصیف کیږي.

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مُوسَىٰ إِنَّهُ كَانَ مُخْلَصًا وَكَانَ رَسُولًا نَبِيًّا ﴿٥١﴾

او یاد کړه (ای محمده ! خپل امت ته) په کتاب (قرآن) کې (قصه د) موسی، بېشکه چې دی وو خالص کړی شوی (د الله له طرفه) او وو دی رسول نبي.

تفسیر: یعنې په قرآنکریم کې چې اوس سمدلاسه د موسی علیه السلام بیان کیږي، د هغه ذکر دخلقو په مخ کې وکړه ! ځکه چې دی د اسحاق علیه السلام او د یعقوب علیه السلام له نسله داسرائیلي سلسلې یو لوی اولوالعزم رسول الله تېر شوی دی، او هم هغسې چې د یحیی او عیسی علیهما السلام په تذکره کې په خصوصیت سره د نصرانیانو اصلاح او ابراهیم علیه السلام له تذکرې څخه د مکې معظمې د مشرکانو تنبیه مقصود ده؛ همداسې د موسی علیه السلام او هارون علیه السلام له تذکرې څخه ښایي یهودانو ته د دې خبرې ښوونه مقصود ده، چې دوی هم سم د خپل جلیل القدر نبي د ښکاره وو او صریحو وړاندوینو سره د محمد صلی الله علیه وسلم د رسالت او نبوّت اقرار او اعتراف په خلاص زړه او اخلاص اومحبت سره وکړي !.

﴿وَكَانَ رَسُولًا نَبِيًّا﴾ الآیة ـ هر هغه انسان ته چې د الله تعالی له طرفه وحي راشي هغه «نبي» دی، په انبیاوو کې هغه چا ته چې خصوصي امتیاز حاصل وي یعنې د مکذبانو په مقابل کې د بېل یو مستقل امت په طرف مبعوث شوی وي، یا نوی

كتاب او مستقل شريعت ولري نو هغه ته «رسول نبي» يا «نبي رسول» ويلى كيږي، په شرعياتو كې جزئي تصرّفات لكه دكوم عام تخصيص يا د مطلق تقييد او نور په رسولانو پورې څه تخصيص نه لري، عام انبياء هم هغه كولى شي، باقي پر غير الأنبياء باندې د رسول او مرسل اطلاق لكه چې د قرآن په بعض مواقعو كې موندل كيږي؛ د دغه مصطلح معنى په اعتبار نه دى، او هلته نور حيثيات معتبر دي، والله أعلم.

وَنَادَيْنٰهُ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ الْاَيْمَنِ وَقَرَّبْنٰهُ نَجِيًّا ﴿٥٢﴾

او غږ كړى وو مونږ دغه (موسى) ته له جانبه د (غره د) طور چې (د موسى)ښي طرف ته وو، او رانژدې كړى وو مونږ دى حال دا چې مونږ له ده سره د راز خبرې كولې.

تفسير: يعنې څه مهال (وخت) چې موسى عليه السلام د اور ځلېدل محسوس كړل؛ نو د «طور» د غره په هغه مبارك او ميمون جانب كې ورسېد، چې د موسى عليه السلام د ښي لاس پر طرف كې واقع وو، نو الله تعالى نداء او غږ پرې وكړ، او د همكلامى شرف يې وروبانده، تفصيل يې د «طه» په سورت كې راځي.

وَوَهَبْنَا لَهٗ مِنْ رَّحْمَتِنَآ اَخَاهُ هٰرُوْنَ نَبِيًّا ﴿٥٣﴾

او بخښلى وو مونږ دغه (موسى) ته له رحمت خپله ورور د ده هارون حال دا چې نبي وو.

تفسير: يعنې هارون عليه السلام د موسى عليه السلام په كار كې مدد كار شو، ځكه چې دى يې پخپله غوښتى وو، لكه چې په (٢٠ جزء د القصص سورت په (٣٤) آيت (٤) ركوع) كې راغلي دي: ﴿وَاَخِيْ هٰرُوْنُ هُوَ اَفْصَحُ مِنِّيْ لِسَانًا فَاَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْاً يُّصَدِّقُنِيْٓ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ﴾، او په (١٦ جزء د «طه» سورت (٢٩ - ٣٠) آيتونو (٢) ركوع) كې مذكور دى: ﴿وَاجْعَلْ لِّيْ وَزِيْرًا مِّنْ اَهْلِيْ ۝ هٰرُوْنَ اَخِي ۝﴾ الآية ـ نو الله تعالى د موسى عليه السلام دغه دعاء او غوښتنه ومنله، او هارون عليه السلام يې نبي وكړ ځاوه، او د ده د اعانت او تقويت (وزارت) لپاره يې مقرر كړ.

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِسْمٰعِيْلَ ۚ اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿٥٤﴾

او ياد كړه (اى محمده ! خپل امّت ته) په كتاب (قرآن) كې (قصه د) اسماعيل، بېشكه چې دى وو صادق (رښتينى) په وعده كې، او وو رسول نبي.

تفسير: له دې نه د اسماعيل عليه السلام فضيلت پر اسحاق عليه السلام ظاهريږي، ځكه چې هغه يې يوائې په نبي سره ياد كړ، او اسماعيل عليه السلام ته يې رسول او نبي وفرمايه، په صحيح مسلم كې حديث دى: «إن الله اصطفى من ولد إبراهيم إسماعيل»، «د ابراهيم عليه السلام له اولادې څخه الله تعالى اسماعيل عليه السلام غوره كړى دى».

وَكَانَ يَاْمُرُ اَهْلَهٗ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ

او وو دى چې حكم به يې كولو اهل (قوم يا امّت) خپل ته په لمانځه سره، او په زكات سره.

تفسير: ځكه چې د كورنۍ خلق د قريبوالي لامله له ځكردو څخه ړومبى د هدايت مستحق دي، او له همدوى څخه نورې سلسلې هم چليږي، نو ځكه د «طه» په (٨) ركوع كې ويلي شوي دي: ﴿وَاْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا﴾ او د تحريم سورت په (١) ركوع كې راغلي دي ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا﴾ او پخپله نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته هم د الشعراء سورت په (١١) ركوع كې هم داسې ارشاد شوى دى: ﴿وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ﴾، ځينې وايي چې: له (اهل) څخه د دوى ځكرد قوم مراد دى، لكه چې د عبد الله بن مسعود ط په مصحف كې د «أهله» په ځاى «قومه» وو، والله أعلم.

وَكَانَ عِندَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا ﴿٥٥﴾

او وو دی په نزد د رب خپل پسندیده (غوره کړی شوی).

تفسیر: یعنې د نورو هدایت یې کول، او په خپله د حمیده وو اقوالو او افعالو خاوند او مستقیم الحال او مرضيّ الخصال وو.

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِدْرِيسَ ۖ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴿٥٦﴾

او یاد کړه (ای محمده ! خپل امت ته) په کتاب (قرآن) کې (قصه د) ادریس !، بېشکه چې دی وو صدّیق (ډېر رښتینی) نبي.

تفسیر: راجح دا ده چې ادریس علیه السلام د آدم علیه السلام او نوح علیه السلام په منځنی زمانه کې تېر شوی دی، وایي چې په دنیا کې په قلم سره لیکل، کالي (کپړې) ګنډل، تلل، او پیمانه کول او د هغو آلاتو او تیرو (ګټو) ترتیبول، او وسلې په کار اچول اول ځلې د ده له خوا په کار اچولي شوي دي، والله أعلم.

وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴿٥٧﴾

او پورته کړی دی مونږ ده لره ځای ډېر اوچت ته.

تفسیر: یعنې ډېر اوچت مقام او لویې مرتبې ته یې رسولی دی، ځینې وایي چې ادریس علیه السلام هم د مسیح علیه السلام په شان ژوندی اسمان ته خېژولی شوی دی، او هلته تر نن پورې ژوندی دی، ځینې وایي: وروسته له دې نه چې پر اسمان خېژولی شوی دی؛ هلته یې قبض الروح کړی شوی دی، د ادریس علیه السلام په نسبت ځینو مفسرینو ډېر اسرائیلیات نقل کړي دي، چې پر هغو ګردو «ابن کثیر رحمه الله» تنقیدات کړي دي، والله أعلم.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ مِن ذُرِّيَّةِ آدَمَ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْرَائِيلَ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا ۚ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا ﴿٥٨﴾

دغه (مخکې مذکور شوي انبیاء له زکریا او عیسی نه تر ادریس پورې) هغه کسان دي چې انعام کړی دی الله پر دوی له انبیاوو څخه له اولادې د آدم (لکه شیث، ادریس)، او له اولادې د هغو کسانو چې بار کړي دي مونږ سره له نوح (په ښېړۍ کې لکه ابراهیم، لوط، صالح)، او له اولادې د ابراهیم (لکه اسماعیل، اسحاق)، او له اولادې د اسرائیل یعقوب (لکه موسی عیسی)، او له هغه چا نه چې لاره مو ښوولې وه (دوی ته)، او غوره کړي مو وو (دوی نبوّت او کرامت ته)، هر کله چې وبه لوستلی شو پر دوی باندې آیتونه د رحمان؛ نو لوېدل به (پر ځمکه) سجده کوونکي او ژړېدونکي (له خوفه د الله نه).

تفسیر: یعنې د حق په طرف یې هدایت وکړ، او د نبوّت او رسالت د منصب لپاره یې غوره کړل، سره له دې چې د دوی مقام اوچت دی، او د معراج کمال ته هم رسیدلي دي؛ خو د عبودیت او بندګۍ پشان کې کامل دي، کله چې د الله تعالی کلام اوري؛ د هغه له مضامینو څخه زیات متأثر کیږي، او په نهایتې عاجزی، خشوع، او خضوع سره سر په سجده لویږي، او د پاک الله په یاد ژاړي، نو ځکه د علماوو اجماع ده چې پر دغه آیت باندې دې هرومرو سجده وکړه شي !، څو د هغه مقربینو د طرز عمل په پیروی او یادونه یو شانته مشابهت له هغوی سره حاصل شي.

فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيّٗا ۝٥٩

پس پیدا شول پس له دوی نه (داسې بد) خلیفګان چې ضایع کړ دوی لمونځ او متابعت وکړ دوی د شهواتو (نفساني خواهشاتو) پس ژر به یو ځای شي دوی له بد عاقبت خپل سره.

تفسیر: هغه تېر شوی بیان د پخوانیو حال وو، د وروستنیو حال دا دی چې د دنیا په خوندونو او لذتونو او په نفساني خواهشونو کې ډوب تللي دي، او د الله تعالی له عبادته غافل شوي دي، لمونځ چې أهمّ العبادات دی؛ ضایع کوي یې، ځینې خو د هغه د فرضیت څخه منکر شوي دي، ځینې سره لـه دې چې په فرضیت یې قائل دي خو نه یې کوي، او که یې کوي خو د جماعت، وخت، او د نورو شروطو، حقوقو، او آدابو رعایت یې نه کوي، له دوی ځنې به هر یو ببل ببل درجه په درجه د خپلې ګمراهۍ نتیجه وګوري، چې څنګه د دوی د خسارې او نقصان سبب ګرځي؟ او څرنګه په ډېر سخت عذاب کې اخته کیږي؟ حتّی ځینې د دوی د جهنّم په هغې ډېرې بدې وادۍ کې غورځول کیږي چې د هغې اسم هم (غي) دی.

إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا ۝٦٠

مګر هغه چا چې توبه یې وویسته او ایمان یې راوړ او عمل یې وکړ نېک؛ پس دغه کسان به ننوځي په جنت کې او ظلم به پر دوی ونه کړی شي هیڅ قدر (په تقلیل د ثواب یا تزیید د عقاب).

تفسیر: د توبې دروازه خو د داسې مجرمانو لپاره هم نه ده بنده چې سخت ګناهګار وي، او د زړه په صدق سره توبه وباسي، او د ایمان او صالح عمل لاره غوره کوي، او خپل اعمال او افعال اصلاح کوي، او سم درست یې ساتي، نو د جنّت دروازې دوی ته پرانستلې دي، وروسته له توبې څخه هر هغه ښه عمل چې وکړي؛ د پخوانیو بدو اعمالو له سببه په دغو کې هیڅ قسم کمی او تقلیل نه واقع کیږي، او نه یې کوم قسم حق ضایع کیږي، په حدیث کې راغلي دي: «التائب من الذنب کمن لا ذنب له»، «له ګناه څخه توبه کوونکی داسې دی لکه چې له سره یې ګناه نه وي کړي»، «اللّهم تب علینا، إنک أنت التواب الرحیم».

جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ عِبَادَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّهُۥ كَانَ وَعۡدُهُۥ مَأۡتِيّٗا ۝٦١

جنتونه د تل اوسېدلو هغو ته چې وعده یې کړې ده رحمان له بندګانو خپلو سره په غیب باندې (چې نه دي لیدلي دوی دا جنتونه)، بېشکه شان دا دی چې ده وعده د ده، خامخا راځي به ورته (اهل یې).

تفسیر: کله چې بنده بې د شیانو د لیدلو څخه محض د انبیاوو علیهم السلام په وینا سره ایمان راوړي، او بې له لیدلو د الله تعالی عبادت کوي، نو پاک الله هم له دوی سره د جنّت د هسې اعلی نعمتونو د ورکولو وعده فرمایلې ده؛ چې د هغو د خوندونو او مزو او ښه والي نظیر او مثال د ده په خوب او خاطر کې هم نه دی تېر شوی، او هغه هرومرو وررسېدونکی او پوره کېدونکی دی، ځکه چې د الله تعالی ګرد مواعید حتميُ الوقوع قاطع او نه تغییرېدونکي دي.

لَّا يَسۡمَعُونَ فِيهَا لَغۡوًا إِلَّا سَلَٰمٗاۖ

نه به اوري دغه (جنتیان) په دغه (جنت) کې چټي (فضول) خبره مګر (اوري به) سلام.

تفسیر: یعنې به جنت کې به لغو، بې باکې، بابیزه او بېکاره خبرې او شورماشور او نور بیهوده شیان له سره نه وي، هو ! د پرښتو او د مؤمنینو له طرفه به د (السلام علیکم ـ وعلیکم السلام) غږونه پورته کیږي.

وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴿٦٢﴾

او دی دوی ته رزق (روزي) د دوی په دغه (جنت) کې سبا او بېګا.

تفسیر: له سبا او بېګا څخه د جنت سبا او بېګا مراد دی، هلته به د دنیا په شان طلوع او غروب (لمر ختل او لویدل) نه وي، چې په هغه سره شپې او ورځې سبا او بېګا مقرر کړ شي، بلکه د خاصو اقسامو انوارو په توارد او تنوّع وي، چې د هغو په واسطه د سبا او بېګا تعیین او تحدید کېدی شي.

تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا ﴿٦٣﴾

دغه (چې ذکر مو وکړ) جنت دی هغه چې په میراث به ورکوو مونږ له بندګانو خپلو هغه چا ته چې وي پرهېزګار.

تفسیر: یعنې د آدم علیه السلام میراث چې رومبی جنت هغه ته رسېدلی وو، او ښایي د میراث لفظ یې ځکه اختیار فرمایلی وي؛ چې دتملیک په اقسامو کې دغه تملیک له ګردو څخه أتمّ او أحکم قسم دی، چې په دې کې نه د فسخې احتمال شته، او نه د بېرته اخیستلو، او نه د ابطال، او نه د اقالې امکان په کې پیدا کېدی شي.

وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ ۖ لَهُ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ ۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿٦٤﴾

او (وویل جبرئیل) نه نازلیږو (مونږ ملائکې) مګر په حکم د رب ستا، خاص الله ته دی (علم) پر هر هغه څیز چې په مخ ځمونږ کې دی (له راتلونکو کارونو او زمانو)، او هر هغه څیز چې وروسته ځمونږ دی (له تېرو کارونو او زمانو)، او هر هغه څیز چې په منځ د دغه کې دی، او نه دی رب ستا هېروونکی.

تفسیر: یو ځلې جبریل علیه السلام تر څو ورځو پورې رانغی، رسول الله صلی الله علیه وسلم منقبض (زړه تنګې) وو، کفّار په داسې ویناوو خولې وپرانستلې چې له محمد صلی الله علیه وسلم څخه د ده رب خفه دی، له دغو طعنو او پیغورو څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم لا متأثر او زړه تنګی شو، بالآخر جبریل علیه السلام تشریف راوړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم له ده نه د دغومره ورځو د نه راتللو د سبب پوښتنه وفرمایله، او په حدیث کې راغلي دي چې دوی وفرمایل: «ما یمنعك أن تزورنا أكثر مما تزورنا» «هومره چې ته راځې، له هغه څخه زیات ولې نه راځې؟»، الله تعالی لا پخوا جبریل علیه السلام ته داسې ښوولې وه چې ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په جواب کې داسې ووایه: ﴿وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ﴾ الآیة ـ دا د الله تعالی کلام شو د جبریل علیه السلام له طرفه، لکه چې په ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ کې یې مونږ مسلمانانو ته د دعا کولو طریقه ښوولې ده، جواب حاصل داسې شو، چې مونږ خالص بندګان یو، بې د الله تعالی له حکمه خپل ښه هم نشو خوځولی، ځمونږ صعود او هبوط ګرد د الله تعالی په اذن او حکم پورې تړلی دی، مطلب دا دی چې د جبریل علیه السلام ژر یا په ځنډ راتلل هم د ده د حکمت او مصلحت تابع دي.

رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ ۚ هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا ﴿٦٥﴾

(الله) رب د اسمانونو دی او (رب) د ځمکې دی، او (رب) د هغو شیانو دی چې په منځ د دوی کې دي، نو عبادت کوه د ده، او صبر کوه په عبادت د دغه (الله) کې (په طاعت، مصیبت، او له معصیت)، آیا پېژنې ته ده ته کوم هم نام (او مثل بلکه نه یې لري).

تفسیر: د الله تعالی اسماء د ده صفات دي، یعنې څوک د الله په صفت سره موصوف شته، چې په کې د ده په شان صفات موجود وي؟ کله چې بل هیڅوک نشته، نو د بندګۍ لایق هم بل هیڅوک له سره نشي کېدی.

وَيَقُولُ الْإِنسَانُ أَإِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ أُخْرَجُ حَيًّا ﴿٦٦﴾

او وایي (له بعثه منکر) انسان: آیا کله چې مړ شم زه؛ نو خامخا ژر به را وایستلی شم (له ځمکې) ژوندی (بلکه نه ژوندی کېږم، او نه بل ژوندون شته).

تفسیر: یعنې انسان د انکار او تعجّب له لارې وایي چې مونږ وروسته له مړکه چې ځمونږ هډوکي هم وراسته او رژېږي، او له خاورو سره ګډېږي، آیا بیا ژوندي او له خپلو قبرونو څخه راپورته کېږو؟ او د عدم له کتمه د وجود په منصّه راتلی شو؟.

أَوَلَا يَذْكُرُ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْئًا ﴿٦٧﴾

آیا نه یادوي انسان (دا خبره) چې بېشکه مونږ پیدا کړی وو دی پخوا له دې نه، او نه وو دی هیڅ شی (بلکه محض عدم وو).

تفسیر: یعنې الله تعالی دی له عدم څخه وجود ته راووست، نو آیا هغه لوی ذات چې له لا شيء څخه شی او له محض معدوم څخه موجود کوي؛ پر نه دی قادر چې یو شی وروسته له فناء بیا پیدا کړی شي؟ او متفرقه اجزاء یې بېرته راټول کړي؟ آدمي ته لا د ده د ړومبني ژوندون حال او احوال نه دی معلوم، نو څرنګه دی پر خپل وروستني ژوندون خاندي او منلډې وهي:

﴿وَهُوَ الَّذِي يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ﴾ (۲۱ جزء د الروم سورت (۲۷) آیت (۳) رکوع).

فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيَاطِينَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴿٦٨﴾

پس قسم دی په رب ستا باندې چې خامخا راجمع به کړو مونږ هرومرو دوی او شیطانان (ټول)، بیا به خامخا راحاضر کړو مونږ هرومرو دوی چاپېر له دوزخ پر ګونډو پراته (له ډېر هیبته).

تفسیر: یعنې منکرین سره له هغو شیاطینو د قیامت په ورځ کې حاضرولی شي، چې دوی یې اغواء کړي وو، او د هر مجرم شیطان به له ده سره یو ځای نیول کېږي، او دوزخ ته به حاضریږي، له ډېر دهشت او وېرې به له ولاړې څخه لویږي، او په قراره سره به کښاستی هم نشي، نو پر ګونډو به پرېوځي.

ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾ ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ بِالَّذِينَ هُمْ أَوْلَىٰ بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾

بیا به خامخا وباسو له هرې فرقې نه هر هغه د دوی چې ډېر سخت دی پر رحمان باندې له جهته د سرکشی. بیا خامخا مونږ ښه عالم یو پر هغو کسانو چې دوی ښه لایق دي له دغه (دوزخ) سره له جهته د غورځولو، سوځولو، داخلولو.

تفسیر: یعنې د منکرانو هره فرقه چې زیات بد معاش، سرکښ او زړوره وه؛ دوی به له نورو فرقو څخه ښل کړه شي، بیا به دوی کې هر یو چې د خورا ډېرې سزا لایق او د دوزخ زیات حقدار وي؛ نو هغه د الله تعالی په علم کې دی، او له ګردو مجرمانو څخه به ړومبی په اور کې غورځولی شي.

وَإِنْ مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا وَّنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا ﴿٧٢﴾

او نشته هیڅوک له تاسې مګر چې دی واردېدونکی ننوتونکی دی دغه ته (یعنې دوزخ ته چې مؤمن په صراط تیریږي، او کافر ترې لویږي)، دي (دغه عبور علی النار) په رب ستا یقیني حکم پرې کړی شوی. بیا به نجات ورکړو هغو کسانو ته چې پرهېزګاري یې کړې ده، او پرې به ږدو ظالمان په دوزخ کې پر ګونډو پرېوتلي.

تفسیر: یعنې د هر یوه نېک او بد، بري او مجرم، مؤمن او کافر لپاره الله تعالی قسم یاد فرمایلی دی، چې ضرور بالضرور دوی پر دوزخ باندې تېرېدونکي دي، ځکه چې د جنت د تللو لار پر هم دغه دوزخ باندې پورې وځي، چې هغه ته د ځمونږ په عمومي محاوراتو کې «پل صراط» وایي، پر دغه باندې د هر سړي لامحاله تېرېدل دي، د الله تعالی څخه ویریدونکي مؤمنان هر یو سم له خپلې درجې سره له دې نه په تلوار صحیح او سلامت تیریږي، او ګناهګاران به ترې ښوییږي، او لاندې به په دوزخ کې لویږي (العیاذ بالله)، بیا څه مدّت وروسته هر یو سم له خپله عمله سره او هم د انبیاوو او ملائکه وو او صالحینو په شفاعت او بالآخر مستقیما د أرحم الراحمین په لطف او مهربانۍ دغه ګرد ګناهګاران چې په رښتیا او صحیح اعتقاد سره یې طیبه کلمه لوستې ده؛ له دوزخه ایستلی کیږي، او یواځې کافران به په کې باقي پاتې کیږي، او د دوزخ خوله به ترله کیږي.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿٧٣﴾

او کله چې ولوستی شي پر دوی آیتونه (د قرآن) ځمونږ په دې حال کې چې واضح ښکاره دي؛ وایي هغه کسان چې کافران شوي دي هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی چې: کوم یو له دغو دواړو فرقو څخه خیر بهتر غوره دی له جهته د مقامه، او ډېر ښه دی له جهته د مجلسه.

تفسیر: یعنې کفّارو د لوی قرآن د آیتونو له اورېدو څخه چې په هغه کې د دوی بد انجام ورښوولی شوی دی؛ د استهزاء او تفاخر په ډول غریبو مسلمانانو ته به یې ویل چې: سم ستاسې له زعمه چې په آخرت باندې معتقد یئ، هر شی چې په آخرت کې وړاندې کېدونکی دی، د دواړو فرقو پر موجوده حالت او مهال (وخت) باندې منطبق کېدونکی دی، آیا ځمونږ ننني عمارت، أثاث البیت، د هستوګنې سامان، او د ژوندون وسائل او ډول او ډیل (سینګار) له تاسې څخه ښه او بهتر نه دی؟ او ځمونږ مرکې، جرګې او مجالس ستاسې له مرکو، جرګو او مجالسو څخه معتبر او معزّز نه دي؟ یقیناً مونږ ستاسې په نزد پر باطل یو، خو ستاسې له «اهل الحق» څخه مونږ ډېر خوښ، هوسا (ارام) او د سړیو او ملاترو خاوندان یو، آیا هغه کسان چې ځمونږ له خوفه او وېرې نن د صفا د غره په کندو کې پټیږي، او هلته د نظر بندو په شان ګوښې (بېل) ناست وي، سبا به په یوه ټوپ سره جنّت ته رسیږي، او دوی داسې ګمان کوي چې مونږ په دوزخ کې لویږو؟ بلکه نه دی داسې.

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ أَثَاثًا وَرِئْيًا ﴿٧٤﴾

او څومره (ډېر) هلاک کړي دي مونږ پخوا له دوی نه له (اهل د) زمانې چې هغوی ښه وو له جهته د سامانونو، او له جهته د شکل او ډول (سینګار) او منظرې.

تفسیر: دا یې د هغوی د خبرې ځواب ورکړ چې پخوا له دې نه ډېر اقوام تېر شوي دي، چې په دنیوي ساز او سامان او نور شوکت او شان کې پر تاسې ډېر اوچت او غوړ او وړ وو، مګر څه مهال (وخت) چې هغوی د انبیاوو په مقابل کې

سرکښي، تکبّر، تفاخر او لويي خپل کار او شعار ښکاره کړ؛ نو الله تعالی د هغوی بيخ او بکر له سره وويست، او د دنيا په نقشه کې د هغوی نوم او نښان پاتې نشو، نو انسان ته لازم دي چې د دنيا په فاني عيش او نشاط او زائل جاه او جلال او بېکاره مظاهرو او مناظرو ونه غولېږي.

قُلْ مَنْ كَانَ فِي الضَّلٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمٰنُ مَدًّا ۚ

ووايه (ای محمده ! دوی ته) هر څوک چې وي په ګمراهۍ کې؛ پس زياتوي (اوږدوي) ده ته رحمان په زياتولو (د مال او د عمر) سره.

تفسير: يعنې هر څوک چې په خپله ګمراهۍ او ضلالت کې لوېدلی وي؛ هغه هم هغسې پرېږده ! ځکه چې دنيا د امتحان ځای دی، دلته هر چا ته في الجمله د هر عمل لپاره آزادي ورکړی شوې ده، د الله تعالی د عادت او حکمت اقتضاء همدا ده، هر څوک چې په خپل کسب او اراده هره يوه لاره ځان ته غوره کړي، وروسته له دې نه چې دی د نېکو او بدو په نتائجو او عواقبو باندې خبر کړ شي؛ دی پر همغې خوښې کړې لار تر يوه حده پورې آزاد او خپلواک پرېښودی شي چې لاړ شي، نو ځکه هر څوک چې د بدۍ پر لاره درومي؛ پس د هغه په حق کې د دنيا مرفّه الحالي او د عمر اوږدوالی او نور دې د هلاکت او تباهۍ علائم وګڼل شي !

حَتّٰۤى اِذَا رَاَوْا مَا يُوْعَدُوْنَ اِمَّا الْعَذَابَ وَاِمَّا السَّاعَةَ ؕ فَسَيَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضْعَفُ جُنْدًا ۝۷۵

تر هغه پورې کله چې وګوري دوی هر هغه شی چې وعده ورسره کړی شوې وي (د هغه)، يا عذاب (په دنيا په قتل او بند) يا قيامت، نو ژر به پوه شي دوی (په هغه وخت کې چې) څوک دي هغه ډېر بد له جهته د ځای او ډېر ضعيف له جهته د فوځه.

تفسير: يعنې کفّار مسلمانان خوار، ذليل او کمزور ګڼي، او خپل ځانونه مغرور، طاقتور او لوی بولي، او پر خپلو اوچتو مانيو، محلاتو، او لويو لويو فوجونو او ګوندونو (ډلو) باندې نازېږي او افتخار کوي، ځکه چې اوس پاک الله دوی سر خوشي او خپلواک او آزاد پرېښي دي، څه مهال چې دوی له ستوني څخه ونيول شي، او په دنيوي عذاب يا اخروي عقاب ککړ او اخته شي؛ نو هلته به ورته معلوم شي چې د چا ځای خراب؟ او کوم يو جمعيت کمزوری او بېکاره دی؟ نو په دغه موقع کې به د دوی ساز او سامان، اولاد، لښکر او نور شيان هيڅ په کار او ښه ورنه شي.

وَيَزِيْدُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هُدًى ؕ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ مَّرَدًّا ۝۷۶

او زياتوي الله (په دنيا کې) هغو کسانو ته چې سمه صافه لاره يې موندلې وي هدايت ثبات او يقين، او باقي پاتې کېدونکي (د جزاء په اعتبار) نېک عملونه خير بهتر غوره دي په نزد د رب ستا له جهته د ثواب، او خير بهتر غوره دي له جهته د بېرته ورتللو.

تفسير: يعنې دغه دنيوي رونق د الله تعالی په دربار کې له سره په کار ورتلونکی شی نه دی، او يوائې حسنات او نيکي د ده په دربار کې ذي مقدار او قيمتدار دي، په آخرت کې د هرې نېکۍ بدل او جزاء په ډېر ښه صورت سره ورکوله کېږي.

اَفَرَءَيْتَ الَّذِيْ كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا وَقَالَ لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّوَلَدًا ۝۷۷

آيا پس ليدلي دي تا هغه څوک چې کفر يې اختيار کړ په آيتونو (د قدرت) ځمونږ، او وايي: خامخا راکول کېږي (په آخرت کې) ما ته مال او ولد (ځوی، لور).

تفسیر: یعنې اخروي مال او دولت د ایمان او توحید په بدل ورکول کیږي، کافران غواړي چې دنیوي دولت په عقبی کې هم د دوی په برخه شي، یا سره له کُفره د اخروي عیش او تنعّم څخه هم برخه ومومي، چې په کې مزې وکړي، نو دغه له سره کېدونکی نه دی.

أَطَّلَعَ الْغَيْبَ أَمِ اتَّخَذَ عِندَ الرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾

آیا خبر شوی دی (دغه کافر) پر غیب؟، یا اخیستې ده په نزد د رحمان وعده؟ (چې ده ته مال او دولت ورکول کیږي په آخرت کې هم).

تفسیر: یعنې په داسې یقین او وثوق سره چې دغه دعوی کوي؛ آیا ده له غیبه خبر موندلی دی؟ یا یې د الله تعالی څخه وعده اخیستې ده؟ ظاهر دی چې له دغو دواړو څخه یو هم نه دی.

كَلَّا ۚ سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾

نه دي داسې (چې دوی وایي، یعنې نه ورکول کیږي دوی ته مال او ولد په آخرت کې)، مونږ لیکو هغه څه چې وایي، او وبه غځوو ده ته له عذابه په غځولو (چې د یوه له پاسه به بل ورته ورکوو).

وَنَرِثُهُ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا ﴿٨٠﴾

او په میراث به اخلو (له ده په مرګ سره) هغه (مال او اولاد) چې (دی یې خپل) وایي، او راځي مونږ ته یواځې (بې له ماله او اولاده).

تفسیر: چې «دی یې خپل وایي» یعنې مال، اولاد، لکه چې د هغه کافر دواړه ځامن مسلمانان شول (کذا في الموضح)، یا دا مطلب چې دغه شیان به تر یې ببل کړل شي، او په قیامت کې به دی یواځې حاضریږي، نه به مال ورسره وي نه اولاد.

وَاتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ آلِهَةً لِّيَكُونُوا لَهُمْ عِزًّا ﴿٨١﴾

او نیولي دي (کفّارو) غیر له الله څخه باطل معبودان لپاره د دې چې شي دوی ته سبب د عزّت (او مدد).

تفسیر: یعنې برسېره له ماله او اولاده د خپلو باطلو معبودانو امداد او مرستې ته هم هیله من (ارزومند) او امیدوار دي، چې هغوی به دوی ته د الله په حضور ډېرې لویې درجې ورکوي، حال دا چې له سره داسې کېدونکي نه دي، او دغه نشه یوه چتې (فضول) سودا ده؛ چې دوی پخپلو دماغو کې ورته ځای ورکړی دی.

كَلَّا ۚ سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿٨٢﴾

نه دي داسې (لکه چې دوی یې ګڼي)، بلکه ژر به منکر شي (دغه معبودان) په عبادت د دوی، او شي به دغه (معبودان) پر دغو (عابدانو) خپلو دښمنان.

تفسیر: یعنې هغه معبودان به له دوی سره څه مدد وکړي؟ بلکه دوی به بالذات د دغو مشرکانو د دغه عبادت څخه هم د بې زاری اعلان وکړي، او د دوی په مقابل کې به ودریږي، او د هغوی د عزت زیاتولو په ځای به د دوی د زیات

ذلت او رسوايي سبب وګرځي، لکه چې په (۲۶ جزء د الأحقاف سورت په (۶) آيت (۱) رکوع) کې راغلي دي: ﴿وَإِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوا لَهُمْ أَعْدَاءً وَكَانُوا بِعِبَادَتِهِمْ كَافِرِينَ﴾

أَلَمْ تَرَ أَنَّا أَرْسَلْنَا الشَّيَاطِينَ عَلَى الْكَافِرِينَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴿۸۳﴾ فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ﴿۸۴﴾

آيا نه ګورې، نه يې خبر (ای محمده !) چې بېشکه مونږ ليږلي مسلط کړي مو دي شيطانان پر کافرانو باندې چې اوچتوي تېزوي دوی په اوچتولو تېزولو سره (په ګناه). پس تلوار مه کوه پر دوی (په ژر غوښتلو د عذاب) بېشکه همدا خبره ده چې شمېرو مونږ دوی ته (ورځې د عمر د دوی) په شمارلو سره.

يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ إِلَى الرَّحْمَٰنِ وَفْدًا ﴿۸۵﴾ وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿۸۶﴾

ياد کړه هغه ورځ چې جمع به کړو پرهېزګاران رحمان ته سواره مېلمانه بللي شوي. او شړو (په شدّت سره) مجرمان (طرف د) دوزخ ته پلي (پياده) تېري.

تفسير: يعنې هم هغسې چې څاروي ډنګر او حيوانات د تندې په حالت کې د اوبو د ګودر په لوري په منډو او تلوار ورځغلي؛ دغه مجرمان به هم د دوزخ کندې ته همداسې شړل کيږي.

لَا يَمْلِكُونَ الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴿۸۷﴾

نه مالکان کيږي (هيڅ يو د دوی) د شفاعت (د هيڅا) مګر هغه څوک چې اخيستې يې ده په نزد د رحمان وعده (او په شفاعت مجاز دی).

تفسير: يعنې له هغوی سره چې الله تعالی د شفاعت وعده فرمايلې ده، لکه ملائکې، انبياء، صالحين او نور، نو همدوی به درجه په درجه شفاعت کوي، بلا اجازه هيڅوک به د ژبې خوځولو توان هم ونه لري، او د همغو خلقو سپارښت به وکړی شي چې د هغوی په حق کې د سپارش کېدلو وعده لا له پخوا څخه ورکړی شوې ده، د کافرانو په حق کې به شفاعت له سره نه کيږي.

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَٰنُ وَلَدًا ﴿۸۸﴾

او وايي (کتابيان مشرکان) نيولی دی رحمان ولد (ځوی، لور).

تفسير: ډېرو کسانو غير الله خپل معبود مقرر کړی وو، ليکن يوه ډله داسې هم وه، چې د الله تعالی لپاره يې د اولاد تجويز هم کړی وو، مثلاً نصرانيانو مسيح عليه السلام او ځينو يهودانو عُزير عليه السلام او ځينو مشرکينو د عربو پرښتو ته به يې د الله تعالی لونې ويل (العياذ بالله)، (نو فرمايي الله دغو کفّارو ته):

لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا إِدًّا ﴿۸۹﴾ تَكَادُ السَّمَاوَاتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿۹۰﴾ أَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدًا ﴿۹۱﴾

خامخا په تحقيق راتله کړي دي تاسې په يو شي لوی سره له حيثيته د ګناه. نژدې دي اسمانونه چې وچوي له دې (نسبته) (او نژدې ده چې) توتې توتې شي ځمکه او ولويږي غرونه غرکې غرکې (ذرې ذرې). له جهته د دې چې بولي دوی رحمان ته ولد (ځوی، لور).

تفسیر: یعنې دغه داسې درنه خبره ویلې شوې ده، او داسې یوه سخته بې ادبه کلمه د دوی له خولې څخه ایستلې شوې ده، چې د هغې له اورېدلو څخه اسمان، ځمکه، غرونه، د هول او هیبت او وېرې لامله لویږي، چوي، ټوټې ټوټې او ټکر ټکر کیږي.

وَمَا يَنْۢبَغِي لِلرَّحْمٰنِ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا ﴿۹۲﴾

او نه ښایي رحمان ته چې ونیسي (دی څوک) ولد (لور، ځوی).

تفسیر: یعنې د الله تعالی د تقدیس او تنزیه او د غناء له کماله دا خبره منافي ده، چې څوک خپل اولاد وګرځوي، بنا پر هغه غرض چې نصرانیان د اولاد قائل شوي دي، یعنې د «کفارو» مسئله کله چې الله تعالی د «رحمن» په صفت سره وپېژني او ویې مني، نو بیا دغه ضرورت له سره نه پاتې کیږي.

اِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اِلَّاۤ اٰتِي الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴿۹۳﴾

نه دي ټول هغه (ګرد شیان) چې دي په اسمانونو کې او ځمکه کې مګر راتلونکي دي رحمن ته په دغه حال کې چې بنده وي هر یو (نه ولد).

تفسیر: یعنې ګرد د الله تعالی مخلوق او د ده بندګان دي، او د ده د بندګۍ په صفت سره د ده په حضور کې حاضریږي، نو بیا بنده څرنګه ولد کېدی شي؟ کله چې ګرد ده ته محکوم او محتاج وي؛ نو دی به ځوی او لور ته څه ضرورت او احتیاج ولري.

لَقَدْ اَحْصٰىهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿۹۴﴾ وَكُلُّهُمْ اٰتِيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَرْدًا ﴿۹۵﴾

خامخا په تحقیق احاطه کړېده (الله) دوی لره (له جهته د علم او قدرت) او شمیرلي دي (الله) دوی (ټول من حیث الأشخاص والأنفاس والأفعال او نورو) په شمېرلو سره. او دا ټول چې دي راتلونکي دي دغه (الله) ته په ورځ د قیامت کې یواځې.

تفسیر: یعنې د بشر یو فرد هم د الله تعالی له بندګۍ څخه نشي خارجېدی، او ګرد د الله تعالی په حضور کې جره او یواځې حاضریږي، په دغه وخت کې به له ګردو تعلّقاتو او سازو او سامانو څخه بېل کړی شي، او فرضي معبودان، ځامن، لمسي، پلار، مور اونور به یې هیڅ په کار نه ورځي.

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا ﴿۹۶﴾

بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه) ژر به وګرځوي دوی ته رحمان دوستي محبت (په زړونو د خلقو کې).

تفسیر: یعنې دوی ته به خپل محبّت ورکوي، یا پخپله به له دوی سره محبت کوي، یا د خلقو په زړونو کې به د دوی محبت غورځولی کیږي، په حدیث کې راغلي دي چې که الله تعالی ته کوم بنده محبوب وي؛ نو رومبی جبرئیل علیه السلام خبروي چې زه د فلاني بنده سره محبّت کوم، نو ته هم له هغه سره محبت ولره، نو جبریل علیه السلام په اسمانونو کې د دغې خبرې اعلان خوروي، له اسمانونو ځنې دغه خبره راښکته کیږي او ځمکې ته رسیږي، او د ځمکې په خلقو کې د دغه بنده په برخه کې حسن القبول حاصلیږي، یعنې بې تعلّق خلق چې د هغوی کومه خاص نفع او ضرر د ده له ذات سره نه وي ترلی؛ له ده سره به مینه او محبت کوي، د دوی په زړونو کې اول د ده محبّت اچولی

کیږي، وروسته د عامو او د خاصو قبول ورحاصلیږي، که نه په ابتداء کې محض د عامو په طبقه کې حُسن القبول حاصلېدل او بیا د ځینو الله منونکو او صالحانو هم د کومې غلط فهمۍ او نورو په اساس د ده په طرف تمایل کېدل د مقبولیت عند الله دلیل نه دی، ښه پرې وپوهېږئ.

فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِ قَوْمًا لُّدًّا ﴿٩٧﴾

پس بېشکه همدا خبره ده چې اسان کړی دی مونږ دغه (قرآن) په ژبه ستا لپاره د دې چې زېرې ورکړې په دې سره پرهېزګارانو ته، او چې وویروې په دې سره قوم جګړه کوونکی.

تفسیر: یعنې لوی قرآن په نهایت سهل، او صاف بیان او په واضح او ښکاره ډول سره پرهېزګارانو ته بشارت اوروي، او جګړه کوونکو ته د ناکارو کارونو له خرابو نتائجو څخه خبر ورکوي.

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ ۖ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُم مِّنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴿٩٨﴾

او څومره ډېر هلاک کړي دي مونږ پخوا له دوی نه له (اهل د) زمانې، آیا محسوسوې (مومې وینې) ته له دوی نه یو تن، یا اورې له دوی کوم نرم غږ هم؟.

تفسیر: یعنې څومره بدبخت د خپلو جرائمو په سزا هلاک شوي دي، چې د هغوی نوم او نښان هم بیخي د دنیا له مخې څخه محو او ورک شوی دی، نن د دوی د پښو د غږ (کړهار) او د تکبّر او لویۍ ډېر نری آواز (بنهار) هم نه اورېده کیږي، نو هغه کسان چې نن ورځ له رسول کریم صلی الله علیه وسلم سره مقابله او مجادله کوي، او د آیات الله څخه انکار او پرې استهزاء کوي؛ دوی دې نه ښفکره کیږي، ممکن دي چې دوی هم په همداسې تباه کوونکو عذابونو کې اخته شي، او په یوه ړپه کې به بیخي سپېره او پناه شي.

تمّت سورة مریم بحسن توفیقه و نصره، فله الحمدُ والمنّةُ أولا و آخراً.

سُورَةُ طٰهٰ

«د (طـه) سورت مکي دی، پرته له (۱۳۰) او (۱۳۱) آیتونو چې مدني دي، (۱۳۵) آیتونه (۸) رکوع لري، په تلاوت کې (۲۰) او په نزول کې (۴۵) سورت دی، وروسته د «مریم» له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

طٰهٰ ﴿۱﴾ مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰٓى ﴿۲﴾ اِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَنْ يَّخْشٰى ﴿۳﴾

نه دی نازل کړی مونږ پر تا باندې قرآن لپاره د دې چې مشقت محنت پر خپل ځان بار کړې. مګر (نازل کړی دی مونږ) تذکره پند لپاره د هغه چا چې ویریږي (له الله نه).

تفسیر: یعنې لوی قرآن ځکه نازل شوی دی، چې د هر چا زړه چې نرم وي، او له الله تعالی څخه ویریږي؛ دی د قرآني بیاناتو څخه پند او نصیحت حاصل کړي، او د قرآنکریم له روحاني فیوضاتو او برکاتو څخه بې برخې او محروم پاتې نشي، او داسې کوم غرض نشته چې د پاک قرآن په نزول سره تاسې خامخا په کوم شاقّه محنت او شدید تکلیف کې اخته کړي، او نه دغه مقدّس قرآن داسې یو شی دی چې (نعوذ بالله) د ده حامل یا عامل له سره بې برخې یا محروم یا ناکام پاتې شي، بلکه د دارینو له فیوضاتو څخه فائز المرام ګرځي، تاسې د دغو مکذبینو د خبرو د اوږدلو څخه له سره خفه ملول او تنګ زړه مه کېږئ !.

تَنْزِيْلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْاَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ الْعُلٰى ﴿۴﴾

(نازل شوی دی) په نازلېدلو له طرفه د (هغه) الله چې پیدا کړې یې ده ځمکه او اسمانونه لوړ لوړ (اوچت اوچت).

تفسیر: نو ځکه ضروري ده چې مخلوق دغه قرآنکریم په ډېره خوښۍ او اخلاص سره د الله تعالی جلّ جلاله د الوهیت پاک کلام ومني !او پر خپلو سرونو او سترګو یې کېږدي !او قطعًا له هغه څخه تخلّف او تمرّد ونه کړي، او تر یې غاړه ونه غړوي.

اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ﴿۵﴾

(دغه خالق د ځمکو او اسمانونو ډېر مهربان) رحمان پر عرش باندې د پاسه دی.

تفسیر: د «استواء علی العرش» مفصّل بیان د «الأعراف» سورت په (۶) رکوع کې لیکلی شوی دی، د «عرش» په متعلق له نصوصو څخه هم دغومره ثابتیږي، چې پایې لري، او خاصو پرښتو هغه راپورته کړی دی، او د اسمانونو په سر کې د قُبې په شان ولاړ دی.

لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ الثَّرٰى ﴿۶﴾

خاص الله لره دي هغه شيان چې په اسمانونو کې دي، او هغه شيان چې په ځمکه کې دي (سره له اسمانونو او ځمکې ملکا خلقًا عبيدًا)، او هغه شيان چې په منځ د دوی کې دی، او هغه چې لاندې له لوندې ځمکې څخه دی.

تفسير: يعنې هم هغه الله تعالى يواځې د غير له شرکته له اسمانونو څخه نيولې تر ځمکې او له ځمکې څخه تر تحتَ الثّرى پورې د ګردو کائناتو خاص مالک او خالق دی، د ده په تدبير او انتظام سره دغه ګردې سلسلې قائمې دي، له «ثرى ـ لوندې ځمکې» څخه د ځمکې هغه لاندنۍ طبقه (پوړ) مراد ده چې تل د اوبو د قرب او اتصال له سببه لونده وي.

وَإِن تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ فَإِنَّهُ يَعْلَمُ السِّرَّ وَأَخْفَى ۝٧

او که ښکاره وينا کوې؛ پس بېشکه دغه (الله) عالم دی په پټې خبرې او په ډېرې پټې.

تفسير: يعنې هره هغه خبره چې په زور سره وويله شي؛ هغه به څرنګه د هغه علاّم الغيوب څخه پټه پاتې کېدی شي؟ چې هغه ته هره ښکاره او پټه بلکه له پټو څخه ډېرې زياتې پټې خبرې هم ورته ښې معلومې دي، او ترې ډېر خبردار دی، هره هغه خبره چې په ګوښې (پناه ځای) او يواځې ځای کې په ډېر ورو وويل شي، يا هغه اندېښنه خيال او تصوّر چې تش په زړه کې ګرځېدلی وي، او لا د قول او عمل مرتبې ته نه جهرًا او نه سرًا رسېدلې وي، يا تر اوسه هيڅ په زړه کې هم نه وي ګرځېدلې او وروسته له دې نه ګرځېدونکې وي؛ د الله تعالى علم پر دغو ګردو محيط دی، نو ځکه شريعت بلا ضرورت په چغه يا په ډېر زور سره د ذکر کولو څخه ممانعت فرمايلی دی، پرته له هغه مواقعو څخه چې په کې ذکر په جهر سره منقول يا د ځينو معتبرو مصالحو په بناء د تجربه کارانو په نزد نافع ګڼلی شوی دی، نو هغه به له دغه نهي له عمومه مستثنى وي.

اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ ۝٨

الله (چې دی) نشته بل بر حق معبود مګر يواځې همدی دی، خاص همده ته شته نومونه نېک (ښايسته).

تفسير: په پاس آيت کې د الله تعالى هغه صفات چې بيان شول: لکه دا چې الله تعالى خالق الکل على الاطلاق مالک، رحمان، مطلق قادر، او د محيط علم څښتن دی، د هغو اقتضاء دا ده چې الوهيت هم د همده خاصه وي، ماسوا الله څخه دې د بل هيڅا په مخ کې د عبوديت او د بندګۍ سرښکته نه کړ شي.

وَهَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ مُوسَىٰ ۝٩

او آيا راغلې ده (يا په تحقيق راغلې ده) تاته قصه د موسى؟.

تفسير: له دې ځايه راهيسې د موسى عليه السلام قصه په ډېر بسط او تفصيل سره بيانوي، تر څو چې اورېدونکي وپوهيږي چې نبي کريم صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم ته د قرآني وحي راتګ کومه نوې او عجيبه خبره نه ده، څرنګه چې پر موسى عليه السلام وحي نازله شوې وه؛ پر دوی هم نازله شوې ده، هم هغسې چې د موسى عليه السلام وحي پر توحيد او نورو اسلامي تعليماتو مشتمله وه؛ د دوی وحي کې هم پر همدغو شيانو تأکيدات صادر شوي دي، هغه مصاعب، متاعب او شدائد چې موسى عليه السلام د حق په تبليغ کې برداشت کړي دي؛ د همغو برداشت کول پر دوی هم دي، هم هغسې چې بالآخر برى او غلبه د موسى عليه السلام په برخه شوه؛ د دوی په برخه هم کېدونکې ده،

او لکه چې د موسی علیه السلام دښمنان مقهور او مغلوب شول؛ یقینا د محمد صلی الله علیه وعلی آله وصحبه وسلم دښمنان هم مخذول او مقهور، او دوی به هم غالب او منصوریږي، په دغه مناسبت د موسوي نبوّت ابتدائي قصه بیان فرمایي، څو پرې رسول الله صلی الله علیه وسلم لا متسلّي او ښه ډاډه شي.

إِذْ رَأَىٰ نَارًا فَقَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّي آتِيكُم مِّنْهَا بِقَبَسٍ أَوْ أَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى ﴿١٠﴾ فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ يَا مُوسَىٰ ﴿١١﴾

کله چې ولید (موسی) اور؛ نو ویې ویل اهل خپل ته: واوسئ (تاسې دلته) بېشکه ما ولید یو اور، ښایي ما لره چې زه راوړم تاسې ته له هغه اوره کومه لګولې لمبه، یا وممم زه په اور باندې لار ښوونکې (چې لار راوښیي). پس کله چې راغی هغه (اور ته)؛ نو غږ ورته وکړی شو (داسې چې) ای موسی !.

تفسیر: د دې قصې مختلفې اجزاء د القصص، طه، او الأعراف د سورتونو څخه جمع کېدی شي، دلته له (مدین) څخه (د مصر) په طرف د ښرته ورتګ واقعه مذکوره ده: امام أحمد رحمه الله له وهب رحمه الله څخه نقل کړي دي: کله چې موسی علیه السلام د ﴿يَا مُوسَىٰ﴾ غږ واورېد؛ نو څو ځلې یې «لبیک» وویل، او عرض یې وکړ چې «زه ستا غږ اورم، او د راتګ احساس دې کوم، مګر نه دې وینم چې چېرې یې».

إِنِّي أَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ ۖ إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٢﴾

بېشکه زه چې یم همدا زه رب ستا یم، پس وباسه (له دواړو پښو) پنې خپلې، بېشکه ته چې یې په کنده پاکه د طوی کې یې.

تفسیر: «طوی» د هغه میدان نوم دی، ښایي چې دغه میدان لا له پخوا څخه متبرک وو، یا اوس متبرک شوی دی، د موسی علیه السلام پنې (یا به) ناپاکې وې؛ نو ځکه پرې وویستلی شوې (یا یې تواضعًا او أدبًا) پرې وویستلې، باقي هغه موزې، ماسې، پنې (څپلی) چې پاکې وې؛ له هغو سره لمونځ کېدی شي، د دې موضوع پوره مسائل دې په فقهیه کتابونو کې وکتل شي !.

وَأَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوحَىٰ ﴿١٣﴾

او ما غوره کړی یې ته (په رسالت)، پس غوږ کېده هغه حکم ته چې وحي کیږي (تا لره !).

تفسیر: «ما غوره کړی یې ته» یعنې په ګرد جهان کې مې همدا ته د نبوّت، رسالت او د مکالمې شرف لپاره انتخاب او غوره کړې، نو ځکه هغه احکام چې وروسته له دې نه درکول کیږي؛ هغه په غور او دقّت سره واوره، او پرې عمل وکړه !.

إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي ﴿١٤﴾

بېشکه زه چې یم همدا زه الله یم، نشته لایق د عبادت بل هیڅوک مګر همدا زه یم، پس عبادت کوه ځما !او سم دروه (اداء کوه) لمونځ لپاره د ذکر (یادونې) ځما.

تفسیر: په دغه کې یې د خالص توحید او د هر قسم بدني او مالي عبادت حکم وکړ، څرنګه چې لمونځ أهمّ العبادات دی، د هغه ذکر په خصوصیت سره وکړی شو، او په دې باندې یې تنبیه فرمایلې ده، چې د لمانځه څخه اعظم مقصود

د الله تعالى يادول دي، ګواکې له لمانځه څخه غافلېدل د الله تعالى له یاده غافلېدل دي، او د ذکر الله په متعلّق يې په بل ځای کې فرمایلي دي: ﴿وَاذْكُرْ رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ﴾ يعنې که په هېره او خطا سره د الله تعالى له یاده غافل شې؛ نو هر کله مو چې په یاد درشي هغه یادکړئ ! د لمانځه حکم هم همداسې دی، چې که په خپل وخت کې دغفلت او نسیان لامله پاتې شې؛ نو هر کله مو چې په یاد درشي قضا يې راوړئ «فليصلها إذا ذكرها».

إِنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ أَكَادُ أُخْفِيهَا

ببشکه قیامت راتلونکی دی، زه اراده لرم د دې چې پټ کړم دغه (وخت د راتللو د قیامت).

تفسیر: یعنې اراده لرم چې د هغه د راتګ وخت له ګردو څخه مخفي او پټ وساتم.

لِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعَىٰ ﴿١٥﴾

لپاره د دې چې جزاء ورکړه شي هر نفس ته په هغو عملونو چې کوي يې (له خیر او شره).

تفسیر: یعنې د قیامت راتګ د دې لپاره هم ضروري دی، چې هر سړي ته د هغه د نېکۍ او بدۍ جزا ور ورسېږي، او د مطیع او عاصي په منځ کې هیڅ قسم التباس او اشتباه پاتې نشي ، دغه وروسته له عبادت او توحیده د معاد د عقیدې تعلیم وشو.

فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَن لَّا يُؤْمِنُ بِهَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ فَتَرْدَىٰ ﴿١٦﴾

پس نه دې بندوي نه دې منع کوي تا خامخا له دغه (ایمان راوړلو په قیامت یا له لمانځه) هغه څوک چې نه لري ایمان په هغه او متابعت کوي د خواهشو خپلو، (که منع راوړې؛) پس ته به هلاک شې.

تفسیر: یعنې نه دې اړوي تا له ایمان راوړلو څخه، یعنې پر قیامت باندې د ایمان راوړلو یا له لمانځه څخه، کله چې الله تعالى موسى علیه السلام ته نصیحت کړی دی، چې د بدانو له صحبت څخه ځان ساته ! نو نورو ته لا د دغې خبرې ضرورت شته چې هرومرو دې خپل ځان د بدانو له مصاحبته وساتي.

وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَا مُوسَىٰ ﴿١٧﴾ قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّؤُا عَلَيْهَا وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا مَآرِبُ أُخْرَىٰ ﴿١٨﴾

او څه څیز دی دغه په ښي لاس د تا کې ای موسی؟. نو وویل (موسی): دا همسا ځما ده چې تکیه کوم پر دې او وهم (څنډم) په دې سره (پانې د ونې چې تویې شي) پر ګډو ځما، او دي ماته په دغه (همسا) کې مطالب حوائج نور هم.

تفسیر: یعنې په دې کې هیڅ شبهه نشته چې دغه هم هغه ځما د لاس لرګی دی، چې تل يې په خپل لاس کې ګرځوم، او پرې تکیه کوم، او خپلو پسو او ګډو ته پانې پرې څنډم، دښمن او موذي ځناوران پرې شړم او دفع کوم يې، او نور ډېر ضروري کارونه هم پرې انجاموم.

قَالَ أَلْقِهَا يَا مُوسَىٰ ﴿١٩﴾ فَأَلْقَاهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعَىٰ ﴿٢٠﴾

وفرمایل (الله) چې وغورځوه دغه (همسا) ای موسی. پس ویې غورځوله دا (همسا) پس ناڅاپه دا مار وو ژوندی چې منډې يې وهلې (ځغلېده).

تفسير: يعني په مجرّد د دې چې همسا يې پر ځمکه وغورځوله؛ دغه همسا د اژدها په شکل واوښته، چې د ډېر نري مار په شان په ډېرې جلتي سره ځغلېده، موسى عليه السلام د دې يو ناڅاپه د دغه انقلابي وضعيت له ليدلو څخه د بشريت په مقتضى وويرېد.

قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ ۖ سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا الْأُولَىٰ ﴿٢١﴾

وفرمايل (الله موسى ته) ونيسه دا (همسا) او مه ويرېږه ! ژر به وګرځوو مونږ دغه (همسا) هم هغه شکل ډومبني خپل ته.

تفسير: يعني كله چې ببرته په لاس درشي؛ دغه ښامار بيا هغه همسا كيږي.

وَاضْمُمْ يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ آيَةً أُخْرَىٰ ﴿٢٢﴾

او پيوست كړه (ښى) لاس خپل تخرګ خپل ته حال دا چې راوبه وځي تک سپين (روښانه) بې له عيبه (د برګوالي)، حال دا چې دغه معجزه ده بله.

تفسير: يعني خپل لاس په تخرګ كې ننه باسه، او بيا يې له ګرېوانه وباسه ! نو دغه لاس به دې تک سپين او روښانه ښكاري، او دغه سپين والى د برص (برګوالي) او نورو عيبو له پلوه به نه وي چې عيب وګڼل شي.

لِنُرِيَكَ مِنْ آيَاتِنَا الْكُبْرَى ﴿٢٣﴾

لپاره د دې چې وښيو تاته ځينې له هغو معجزاتو چې ډېرې لويې دي.

تفسير: يعني د همسا او بيضاء لاس معجزې له هغو لويو نښو او معجزاتو د قدرت څخه دوه معجزې دي، چې د هغو ورښودل تاسې ته منظور دي.

اذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَىٰ ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي ﴿٢٥﴾

لاړ شه فرعون ته (سره له دغو معجزو) بېشكه چې هغه باغي شوى دى (تجاوز يې كړى دى له حدوده د بندګۍ). وويل (موسى:) اى ربه ځما ! پرانيځه ارته كړه ما لره سينه ځما.

تفسير: يعني حليم، بردبار او د حوصلې خاوند مې وګرځوې، چې د خلاف الطبع شيانو د ليدلو څخه ژر خفه نه شم، او د رسالت په تبليغ كې له هغو مصاعبو سره چې مخامخ كېږم، او هغه متاعب چې ځما په مقابل كې رائي؛ له هغو څخه ونه ويرېږم، بلكه په ارت زړه او رانه وچولي (تندي) يې وګالم (برداشت كړم)، او متحمل يې شم.

وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي ﴿٢٦﴾

او آسان كړه ماته دغه مهم كار ځما (چې تبليغ دى).

وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِنْ لِسَانِي ﴿٢٧﴾ يَفْقَهُوا قَوْلِي ﴿٢٨﴾

او پرانيځه غوټه له ژبې ځما. چې وپوهيږي خلق په خبرو ځما (په وخت د تبليغ كې).

تفسير: ژبه يې په وړوكيتوب كې سوځېدلې وه (چې د هغه قصه په نورو تفاسيرو كې ليكلې شوې ده)، او په صاف ډول سره يې خبرې نشوې كولې، نو ځكه يې دغسې دعاء وكړله.

وَاجْعَلْ لِّي وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِي ﴿٢٩﴾ هَارُونَ أَخِي ﴿٣٠﴾ اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي ﴿٣١﴾ وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي ﴿٣٢﴾

او وګرځوه ما ته یو وزیر (مرستیال) له اهله ځما. هارون (چې دی) ورور ځما. قوي کړه په ده سره ملا ځما. او شریک کړه دغه (هارون له ما سره) په دې کار ځما کې.

تفسیر: هارون علیه السلام په عمر کې له موسی علیه السلام څخه لوی وو.

كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيرًا ﴿٣٣﴾ وَنَذْكُرَكَ كَثِيرًا ﴿٣٤﴾ إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرًا ﴿٣٥﴾

لپاره د دې چې تسبیح ووایو ستا (تسبیح ډېر) او یادوو تا په ذکر ثناء ډېره. بېشکه ته چې یې یې ته په (احوالو) ځمونږ ښه خبردار لیدونکی یې.

تفسیر: یعنې که دواړه سره یو ځای شو؛ د دعوت او تبلیغ په مواقعو کې به ډېر په زور او شور سره ستا پاکي او کمالات بیان کړو، او د دعوت له مواضعو څخه قطع نظر کله چې مونږ هر یوه ته د بل د ملګرتیا قلبي تقویه او د زړه ډاډینه حاصله وي؛ نو په خپلو کورونو او ځایونو کې به په نشاط او طمانیت سره ستا ذکر (او عبادت) په کثرت سره کوو.

قَالَ قَدْ أُوتِيتَ سُؤْلَكَ يَا مُوسَىٰ ﴿٣٦﴾

وفرمایل (الله) په تحقیق درکړی شوی تا ته سوال د تا ای موسی.

تفسیر: یعنې کوم شیان چې تاسې وغوښتل؛ د الله تعالی له لوري تاسې ته درکړل شول.

وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً أُخْرَىٰ ﴿٣٧﴾

او خامخا په تحقیق احسان کړی وو مونږ پر تا یو کرت بل (پخوا له دې نه).

إِذْ أَوْحَيْنَا إِلَىٰ أُمِّكَ مَا يُوحَىٰ ﴿٣٨﴾

کله چې وحي کړې وه مونږ مور ستا ته (الهامًا یا په خوب کې) دغه چې اوس اوراوه شي.

تفسیر: یعنې په خوب یا ویښتیا او بیداری کې، د الهام په ډول یا په هم هغه وخت کې د کوم مجهول الاسم نبي په ژبه ستا مور ته هغه حکم مو درلېږلی وو، چې د هغه لېږل مناسب وو.

تنبیه: د «ایحاء» له لفظه د موسی علیه السلام د مور نبوّت نه ثابتیږي، لکه چې د پاس تقریر څخه ظاهر دي، ځکه چې نبي هغه دی چې د الله تعالی له طرفه ورته د احکامو وحي راشي، او د هغه په تبلیغ مأمور وي، او دلته دغه تعریف نه صادقیږي.

أَنِ اقْذِفِيهِ فِي التَّابُوتِ فَاقْذِفِيهِ فِي الْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّي وَعَدُوٌّ لَّهُ ۚ

چې وغورځوه دغه (موسی) په تابوت (صندوق) کې، (پس بیا) وغورځوه دغه (تابوت) په سیند کې، بس ودې غورځوي هغه صندوق لره سیند په ساحل (غاړه خپل کې، چې) ونیسي دغه (موسی) دښمن ځما او دښمن د ده.

تفسیر: یعنې کله چې موسی علیه السلام پیدا شو، د ده والده وویرېده، چې که د فرعون سړي خبر شي؛ نو دغه ځما هلک به هم ووژني، او د ده مور او پلار ته به هم ربړ (زحمت) او تکلیف ورپېښوي، چې دغه مو ولې راښکاره نه

کړ، نو په دغه وخت کې د الله تعالی له طرفه دغه تدبیر ورالهام شو، او د موسی علیه السلام والدې دی په یو سر ترلي صندوق کې په سیند کې لاهو کړ، له دغه سیند څخه یوه ویاله د فرعون باغ ته تللې وه، نو دغه صندوق په دغه ویاله کې راغلی په وچه کې ونښت، یا د فرعون د باغ په حوض کې ودرېد، د فرعون ښځه (بي بي آسیه رضي الله تعالی عنها) چې یوه ډېره عفیفه عابده اسرائیلی مېرمن وه، له دغه صندوق څخه دغه هلک وویست، او د فرعون مخ ته یې وروړاندې کړ، او ورته ویې ویل: راځه چې دغه ماشوم مونږ د خپل ځوی په شان وروزو (وپالو)، فرعون هم د دې هلک د لیدلو څخه خوښ شو، او مینه یې پرې راغله، مګر د ده د ځوی ګرځولو ځنې یې انکار وکړ، مګر د بي بي آسیې رضي الله تعالی عنها له خاطره به یې د خپل ځوی په شان د هغه روزنه (پالنه) کوله، او په دې شان د الله تعالی د عجیب او غریب قدرت ظهور په عمل راغی.

وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي ۚ

او اچولی مې وو پر تا محبت مینه له طرفه ځما (چې ګرد خلق پر تا مین شول).

تفسیر: یعنې مونږ له خپل لوري په دغه وخت کې د مخلوق په زړه کې ستا محبت وغورځاوه، چې هر لیدونکی به له تا سره مینه او محبت وکړي، یا یو خاص محبت مو پر تا وغورځاوه، چې ته د الله تعالی محبوب وګرځېدې، نو له هر چا سره چې پاک الله محبت وکړي؛ بندګان هم له هغه سره مینه او محبت کوي.

وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِي ﴿٣٩﴾

او (ومې کړه دغه کارونه) چې تربیت ستا وشي ځما د سترګو لاندې.

تفسیر: یعنې د خلقو په زړونو کې ستا د محبت غورځولو څخه دغه غرض وو چې ځمونږ د سترګو لاندې ستا کتنه، حفاظت، او روزنه وکړه شي، او د داسې سخت دښمن په کور کې سره له دې چې شپې او ورځې دې تېرولې؛ خو بیا ستا یوه ویښته ته څه ضرر او زیان ونه رسیږي.

إِذْ تَمْشِيٓ أُخْتُكَ فَتَقُولُ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ مَن يَكْفُلُهُ ۖ فَرَجَعْنَاكَ إِلَىٰ أُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ۚ

کله چې ته خور د تا (لپاره د پلټنې ستا؛ نو یې ولیدې چې د هیچا تې نه نیسې) پس ویې ویل: آیا وښایم زه تاسې ته هغه څوک چې تربیت وکړي د ده (نو قبول شو قول د دې، او مور یې راوسته او تې یې ونیوه)، پس بېرته راوستې مونږ ته مور خپلې ته لپاره د دې چې یخې (رنې) شي سترګې د دې (او خوشاله شي په لیدلو د تا) او خفه نشي.

تفسیر: پوره قصه به په بل ځای کې راځي، د موسی علیه السلام مور وروسته له هغه چې صندوق یې په سیند کې وغورځاوه، د بشریت په مقتضی سخته خپه او پرېشانه شوه، او په دغه اندېښنه کې ډوبه تللې وه چې د دې د ځوی به څه حال شوی وي؟ نه ورته معلومه وه چې ژوندی دی؟ یا د کوم ځناور خوراک شوی دی؟ نو د موسی علیه السلام خور ته یې وویل: «ای لوري ! ته په پټه سره خپل ورور ولټوه !او د ده د حال او احوال په تحقیق کې اوسه ! د بل لوري د الله تعالی په مشیت دغسې حال مهیّأ شو، چې موسی علیه السلام د هیڅ یوې ښځې تې به یې په خوله نه اخیست، نو ځکه ډېر ښځې راغلې او بېرته لاړلې، د موسی علیه السلام خور (بي بي مریمې) چې د ده په تکل کې وه (بي بي آسیې رضي الله تعالی عنها) ته یې وویل: «که مو امر او اجازه وي؛ نو زه به یوه ډېره ښه ښځه تاسې ته راولم، چې دغه هلک د هغې تې واخلي، یا هغه داسې دارو او درمان وکړي چې دغه هلک څه شی وخوري، او له لوږې څخه ورته څه زیان او

ضرر ونه رسيږي، او په ښه شان سره يې وروزي، او پالنه يې وکړي»، پرې حکم وشو چې هله ژر شه ! او ژر يې راوله ! دا لاړه او د موسی علیه السلام مور يې ورته راوسته، او هغه يې په الله او بسم الله سره خپل تي ته واچاوه، او ده د هغې تی واخيست، او په غړ کهار سره يې په تي رودلو باندې شروع وکړه، د فرعون په کور کې ډېره خوښي او خوشالي پيدا شوه، او ټول د دغه هلک د موندلو څخه په خپلو کالیو (جامو) کې نه ځايېدل، د موسی علیه السلام مور وويل چې: زه دلته نشم پاتې کېدی، که ماته اجازه راکړه شي چې دغه هلک له خپله ځانه سره کور ته يوسم، او په پوره حفاظت او اهتمام سره يې روزنه او پالنه وکړم، بالآخر د فرعون له طرفه د دايي په توګه د دغه هلک په تربيت مأموره شوه، او دی يې بېرته خپل کور ته راوست، او د پاچاهۍ په اعزاز او اکرام سره د ده په تربيت باندې يې لاس پورې کړ.

وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنٰكَ مِنَ الْغَمِّ

او مړ کړی وو تا يو سړی، پس نجات مو درکړ تاته له غمه (د قصاص او عقاب).

تفسير: دغه پورته قصه د القصص په سورت کې راځي، خلاصه يې دا چې د ځلميتوب په وخت کې د موسی علیه السلام له لاسه يو قبطي وژلی شوی وو، موسی علیه السلام وويرېد چې د ده په قصاص کې هم په دنيا او هم په عقبی کې زه مأخوذ کېږم، نو پاک الله ده ته له دغو دواړو اقسامو پرېشانيو څخه نجات ورکړ، د اخروي پرېشانۍ څخه په دې ډول چې د توبې توفيق يې وروبښه چې قبوله هم شوه، او له دنيوي څخه په دې ډول چې موسی علیه السلام يې له مصر وويست، او مدين ته يې ورساوه، چې پوره قصه يې په بل ځای کې راځي.

وَفَتَنّٰكَ فُتُوْنًا

او ومې ازمويلې ته (په قسماقسم) ازموينو سره.

تفسير: يعنې ستا امتحان د الله تعالی له طرفه په څو څو ځايونو کې واخيست شو، او ته په کې بريالی (کامياب) ثابت شوې.

فَلَبِثْتَ سِنِيْنَ فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ ۙ ثُمَّ جِئْتَ عَلٰى قَدَرٍ يّٰمُوْسٰى ۝۴۰

پس واوسېدی ته څو کاله په اهل د مدين کې بيا راغلې ته (اوس دلته) پر هغه وخت مقرّر شوي (د عمر چې ما اندازه کړی وو، او د رسالت لايق دی)، ای موسی !.

وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِيْ ۝۴۱

او جوړ کړی (غوره کړی) يې ماته لپاره د ځان خپل (په رسالت).

تفسير: يعنې د خپلې وحي او رسالت لپاره يې تيار، او په خپلو خواصو او مقربينو کې يې داخل کړې، او څرنګه يې چې اراده وه؛ ستا روزنه (پالنه) يې وفرمايله.

اِذْهَبْ اَنْتَ وَاَخُوْكَ بِاٰيٰتِيْ وَلَا تَنِيَا فِيْ ذِكْرِيْ ۝۴۲

لاړ شه ته (ای موسی) او ورور د تا په معجزو ځما سره، او سستي مه کوئ په ياد ځما کې.

تفسير: يعنې د هغه کار لپاره چې ته جوړ کړی شوی يې؛ اوس يې وخت راغلی دی، چې ته له خپل ورور هارون علیه السلام سره د هغه لپاره ولاړ او تيار شئ ! او هغه دلائل او معجزات چې تاسې ته درکړی شوی دی؛ د ضرورت

په وخت کې يې ظاهر کړې، کله چې موسی علیه السلام پخوا له دې نه د دعاء کولو په وخت کې ویلي وو: ﴿كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيرًا ۝ وَنَذْكُرَكَ كَثِيرًا﴾ نو ځکه يې دلته په ﴿وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي﴾ په ویلو سره د هغه تذکره وفرمایله، یعنې د الله تعالی د نامه په تبلیغ کې په پوره تیارۍ او فعالیت سره کار وکړئ ! او تمامو احوالو او اوقاتو کې عموما او د دعوت او تبلیغ په وخت کې خصوصًا پاک الله په کثرت سره یادوئ ! چې دغه ذکر الله د اهل الله لپاره د بري او کامیابۍ لویه وسیله او د دښمن په مقابل کې مهمه وسله ده.

اِذْهَبَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ۝

لاړ شئ (تاسې دواړه) فرعون ته، ببشکه چې دی باغي شوی دی په دعوی د الوهیت سره.

فَقُوْلَا لَهٗ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ اَوْ يَخْشٰى ۝

پس ووایئ ده ته خبره پسته نښیرې چې دی پند واخلي (که ستا رسالت ورته محقق شي) یا وویرېږي (له الله که متوهم شي).

تفسیر: یعنې د دعوت او تبلیغ او وعظ او نصیحت په وخت کې پستي، آسانه، رقت راوړنکې خبرې وکړه، اګر که د ده د تمرّد او طغیان لامله د قبول هیله او امید نشته، خو بیا هم تاسې داسې خیال وکړئ ! ممکن دی چې هغه له فکره او غور څخه کار واخلي، او دغه پند او نصائح پرې اثر وغورځوي، یا د الله تعالی د جلال او جبروت د بیان اور پدلو څخه وویرېږي، او د طاعت او انابت په لوري متمائل شي، او په خبرو او اترو کې ډېره نرمي وکړي، له دې توصیې څخه د دعاتو او مبلغینو لپاره ډېر لوی دستور العمل په لاس راځي، لکه چې په قرآن کې داسې صاف ارشاد شوی دی: ﴿اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ﴾ (۱۴ جزء د النحل سورت (۱۲۵) آیت (۱۶) رکوع).

قَالَا رَبَّنَآ اِنَّنَا نَخَافُ اَنْ يَّفْرُطَ عَلَيْنَآ اَوْ اَنْ يَّطْغٰى ۝

وویل (دواړو وروڼو) ای ربه ځمونږ ! ببشکه مونږ ویرېږو چې تلوار به وکړي پر مونږ (په عقوبت سره)، یا به لا نافرمان شي (چې ستا په نسبت به بدې خبرې وکړي).

قَالَ لَا تَخَافَآ اِنَّنِيْ مَعَكُمَآ اَسْمَعُ وَاَرٰى ۝

وفرمایل (الله) مه ویرېږئ (تاسې دواړه)، ببشکه زه له تاسې سره یم (په معاونت او نصرت)، اورم او وینم (په ښه شان سره ستاسې اقوال او افعال هم).

تفسیر: یعنې هغه خبرې چې ستاسې او د ده په منځ کې کیږي، یا هغه معاملات چې در وړاندې کیږي؛ هغه ګرد زه اورم او وینم یې، زه هیڅ له ستاسې نه یم جلا، او تل ځما نصرت او حمایت له تاسې سره دی، خوف او وېره هیڅ مورد نه لري، او نه ښایي چې تاسې په دغه فکر کې واوسئ.

فَاْتِيٰهُ فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلَا رَبِّكَ فَاَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۗ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ۗ

پس ورشئ (تاسې دواړه) ده ته پس ووایئ چې ببشکه مونږ یو رسولان د رب ستا، نو ولېږه له مونږ سره بني اسرائیل، او مه په عذابوه دوی (په سختو سختو تکالیفو سره).

تفسیر: په دغه کې د درې شیانو په طرف دعوت ورکړی شوی دی:

(۱): د فرعون او د نورو مخلوقاتو کوم رب شته چې رسول یې رالېږلی دی.

(۲): مونږ دواړه د هغه رسولان یو، لهذا ځمونږ اطاعت او د رب العزّت عبادت بنایي چې وکړی شي، ځکه چې په دغې جملې سره د ایمان د اصل په لوري دعوت ورکړی شوی دی، همدغه یې په «والنازعات» (دېرشم ۳۰ جزء کې) داسې اداء کړی دی: ﴿فَقُلْ هَل لَّكَ إِلَىٰ أَن تَزَكَّىٰ ۝ وَأَهْدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخْشَىٰ﴾

(۳): هغه شی دی چې د هغه ضرورت په هغه خاص وخت کې واقع شو، یعنې د بني اسرائیلو نجات د فرعونیانو د ذلت او رقّت راوړونکې غلامۍ څخه، مطلب یې دا دی چې: پر دغې شریفې او نجیب الأصلې کورنۍ ظلم او ستم مه کوئ ! او د دغه ډېر ذلیل او حقیر مریيتوبه یې ازاد او خپلواک کړئ، او له مونږ سره یې پرېږدئ چې هر چېرې مو چې زړه غواړي لاړ شو، او په ازادۍ سره شپې او ورځې تېرې کړو.

قَدْ جِئْنَاكَ بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكَ

په تحقیق راغلي یو مونږ تا ته سره له معجزې له جانبه د رب ستا.

تفسیر: یعنې ځمونږ دغه د رسالت دعوی بې دلیله نه ده، بلکه پر خپل صداقت د الله تعالی د قدرت معجزې او دلائل هم راسره شته.

وَالسَّلَامُ عَلَىٰ مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَىٰ ۝ إِنَّا قَدْ أُوحِيَ إِلَيْنَا أَنَّ الْعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ۝

او سلامتي ده (له عذابه) په هغه چا چې متابعت وکړي د سمې صافې لارې. بېشکه مونږ چې یو په تحقیق وحي کړی شوې ده مونږ ته چې بېشکه عذاب په هغه چا دې چې تکذیب کوي (د رسولانو) او مخ ګرځوي (له اسلامه).

تفسیر: یعنې هر څوک چې ځمونږ خبره ومني، او پر سمه صافه لاره لاړ شي؛ نو د هغه لپاره د دواړو دارینو سعادت او سلامت ور په برخه کیږي، او هر څوک چې تکذیب او اعراض کوي؛ نو د هغه لپاره عذاب یقیني دی، اعم له دې نه چې یواځې اخروي عذاب وي، یا په دنیا کې هم ورته ورسیږي، بنایي چې اوس تاسې د خپل آخرت په فکر کې شئ، او هره لاره مو چې خوښه وي؛ هم هغه ځان ته غوره کړئ.

کله چې راغلل دوی فرعون ته، او د رب العالمین پیغام یې ورساوه؟

قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَا مُوسَىٰ ۝

نو وویل (فرعون) پس څوک دی رب ستاسې ای موسی؟.

قَالَ رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَىٰ كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَىٰ ۝

وویل موسی: رب ځمونږ هغه ذات دی چې ورکړی یې دی هر څیز ته (له مخلوقاتو) صورت شکل د ده (موافق د کماله د ده سره)، بیا یې لاره هم ورښوولې ده.

تفسیر: یعنې هر شي ته یې سم د هغه له استعداد سره شکل، صورت، قوې، خواص او نور عنایت فرمایلي دي، او د حکمت له کمال یې هم هغسې جوړ کړی دی چې هغه لره لازم وو، بیا په مخلوقاتو کې د هر یو د وجود او بقاء لپاره

هغه سامان چې ضرورت وو؛ هغه يې ورمهيأ کړی دی، او هر څيز ته يې له خپل مادي ساخت او روحاني قوّتونو او خارجي سامانونو څخه د کار اخيستلو لاره ورښوولې ده، بيا داسې يو ټينګ نظام يې رابښوولی دی ، مونږ ته يې هم هدايت راکړی دی، چې د دغو مصنوعاتو له وجوده د صانع پر وجود څرنګه استدلال وکړو، فلله الحمد والمنة.

قَالَ فَمَا بَالُ الْقُرُونِ الْأُولَىٰ ﴿٥١﴾ قَالَ عِلْمُهَا عِندَ رَبِّي فِي كِتَابٍ لَّا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى ﴿٥٢﴾

وويل (فرعون): پس څه وو (حال) د خلقو پخوانيو؟. وويل (موسى): چې علم د هغوی په نزد د رب ځما دی په کتاب (لوح محفوظ) کې (ليکلي دي)، چې نه يې ورک کوي رب ځما او نه يې هېروي (هيڅ څيز).

تفسير: يعنې «که د الله تعالى پر وجود باندې داسې روښان دلائل قائم شوي دي، او د هغه په طرف چې ته دعوت ورکوې حق دی؛ نو د تېرو اقوامو په متعلّق څه بيان کړه، چې آخر له دوی ځنې ډېر کسان سره د داسې واضحو او روښانو دلائلو له موجوديته ولې يې له حق څخه غاړه وغړوله، او قبول يې نه کړ؟ آيا پر هغو ګردو باندې يې عذاب نازل کړ او تباه شول؟ که ته نبي يې نو د ګردو اقوامو تفصيلي حالات ښايي تاته خامخا معلوم وي»، دغه ګرد لا يعنې او لرې له مقصده خبرو باندې ځکه د فرعون خوله وسپړېده چې د موسى عليه السلام د هدايت مضامين په داسې فضولو او چټې خبرو سره مخلوط کړي، موسى عليه السلام وفرمايل چې: انبياوو ته د ګردو شيانو تفصيلي علم لرل ضروري نه دي، د هر قوم د تفصيلي حالاتو څخه اطلاع او علم يواځې د الله تعالى کار دی، چې د ځينو مخفي مصالحو په بناء هغه يې په کتاب (لوح محفوظ) کې هم ليکلی دی، د الله تعالى د محيط علم څخه يو شی نه ابتداء غائب کېدی شي او نه په علم کې راغلی څيز د يوې شېبې لپاره هم هېرېدی شي، پر هغه د هر قوم د اعمالو په هر وخت کې چې کړي يې وي؛ د هغو ګردو د يوې يوې ذرې ليکلې شوې حساب شته، چې په هر يوه لازمو اوقاتو کې يې ښکارولی شي.

الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ مَهْدًا وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّن نَّبَاتٍ شَتَّىٰ ﴿٥٣﴾

هغه الله چې ګرځولې يې ده تاسې ته ځمکه فرش (غوړېدلې) او روانې کړې يې دي تاسې ته په دې کې لارې، او نازلې کړې يې دي (له طرفه) د اسمانه اوبه؛ پس راوباسو مونږ په دې (اوبو) سره هر هر قسم له ګياو (شنيليو) څخه رنګ په رنګ.

تفسير: يعنې د اوبو، سيندونو، او غرونو له منځه يې پر ځمکه لارې جوړې کړي، او له يوه ځايه بل ځای ته يې بيولې او نښلولې دي، چې پر هغو له ورتګه له يوه ملکه بل ملک ته رسېدی شي، او د اوبو په ذريعه الله تعالى راز راز شنيلي، ترکودی (نباتات) مېوې، دانې، غلې اونور يې پيدا کړي دي.

كُلُوا وَارْعَوْا أَنْعَامَكُمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّأُولِي النُّهَىٰ ﴿٥٤﴾

وخورئ تاسې ترې او څروئ (په کې) چارپايان خپل، بېشکه په دې (مذکورو شيانو کې) خامخا (د قدرت ډېر) دلائل دي لپاره د خاوندانو د عقل.

تفسير: يعنې ښې او عمده غـذاوې تاسې خورئ، او هغه شيان چې ستاسې نه پکاريږي؛ هغه پر خپلو چارپايانو خورئ، چې د هغوی په محنت او زيار (کوښښ) ايستلو سره على الأكثر دغه پيداوار حاصليږي.

مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴿٥٥﴾

(خاص) له دې (ځمکې څخه) پیدا کړي یئ مونږ تاسې، او په همدې ځمکې کې ننه باسو تاسې، او له دې (ځمکې) څخه راباسو تاسې بل کرت (دویم ځلي په بعث بعد الموت سره).

تفسیر: د ګردو پلار آدم علیه السلام له خاورو څخه پیدا کړی شوی دی، بیا په هغو أغذیه وو (خوراکو) سره چې د انسان د بدن روزنه (تربیت) کیږي؛ هغه هم له خاورو څخه وځي، وروسته له مرګه هم په عمومي ډول ګرد انسانان وړاندې یا وروسته له خاورو سره ګډیږي، همداسې د قیامت په وخت کې همدغه اجزاء چې له خاورو سره ګډوډ شوي وي؛ بیا سره ټولیږي او بیا له سره پیدا کیږي، او هغه مړي چې په قبرونو کې خښ وي؛ بیا ژوندي ترې راپورته کیږي.

وَلَقَدْ أَرَيْنَاهُ آيَاتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ ﴿٥٦﴾

او خامخا په تحقیق ورښوولې (ورپېژندلې) وې مونږ دغه (فرعون ته) معجزې (د قدرت خپلې) ټولې، نو تکذیب یې وکړ (د معجزو) او منع یې راوړه (له ایمانه په هغو باندې).

قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا مِنْ أَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يَا مُوسَىٰ ﴿٥٧﴾

وویل (فرعون) آیا راغلی یې ته مونږ ته لپاره د دې چې وباسې مونږ له ځمکې ځمونږ په سحر خپل ای موسی؟.

تفسیر: دغه خبره یې خپل قوم قبطیانو ته ځکه وویله؛ څو هغوی ته د موسی علیه السلام په مقابل کې نفرت او اشتعال ورکړي، یعنې د موسی علیه السلام غرض او مقصد دا دی چې د جادو په زور مونږ د دې ملک څخه وشړي، او د کوډګرۍ په داسې نندارې د عوامو جمیعت له خپله ځانه سره ملګري کړي، او په دغه چل د قبطیانو پر ګردو املاکو او اموالو قابض شي.

فَلَنَأْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِثْلِهِ فَاجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا لَا نُخْلِفُهُ نَحْنُ وَلَا أَنْتَ مَكَانًا سُوًى ﴿٥٨﴾

پس خامخا رابه وړو تاته سحر پشان د دې سحر، پس مقرّر کړه په منځ ځمونږ او په منځ د تا کې یوه وعده چې نه به کوو مخالفت له هغه مونږ او نه ته، (او وګرځوه ځای د وعدې) یو ځای هوار (متوسّط په منځ د طرفینو کې).

تفسیر: یعنې ته پخپله په دغه اراده کې له سره نشې کامیابېدی، له مونږ سره ډېر لوی لوی کوډګران شته، نبه خو به دا وي چې ته له هغوی سره مقابله وکړې، پس په هره ورځ او هر ځای کې چې ته له هغوی سره مقابله کول غواړې؛ د هغه د تعیین اختیار تاته درکړی کیږي، او دا ضروري ده هر هغه وخت چې معین کیږي؛ نبایي چې له هغه څخه هیڅوک ځان ونه کاږي، او داسې ځای دې وټاکل شي، چې هلته د دواړو طرفینو لپاره یو شان سهولت حاصل وي، او په منځ کې واقع وي، او په کښاستلو کې د راعي او رعایا او حاکم او محکوم او د وړوکي او د لوی هیڅ فرق او توپیر سره نه وي، او هره یوه ډله په ډېره آزادۍ او خپلواکۍ سره د خپل قوّت او قدرت مظاهره په کې وکړی شي، او میدان هم خلاص، ارت، صاف او هوار وي، څو ګرد کتونکي هر شی بې تکلفه ولیدی شي، او ټول مشاهدات په نبه ډول سره وکړی شي.

قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّينَةِ وَأَنْ يُحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى ﴿٥٩﴾

وويل (موسی) وخت د وعدې د تاسې ورځ د جشن (د قبطیانو) ده، او دا چې راټول به کړل شي خلق په وخت د څاښت کې.

تفسیر: یعنې د انبیاوو په کارونو کې له سره هیڅ یو تلبیس او تلمیع نه وي، د دوی ګرد معاملات ښکاره، واضح او صاف وي، موسی علیه السلام وفرمایل: «ښه په هم هغه ورځ کې چې تاسې لویه مېله او رسمي جشن کوئ؛ په هم هغه ورځ کې څه وخت چې لمر ښه پورته راشي، نو دغه د مقابلې نمایش (ښودنه) هم شروع شي، یعنې په دغه مېله کې په هر ځای او هر وخت چې ډېر خلق سره راټول شوي وي، په رڼا ورځ کې دې دغه مقابله وکړله شي، څو کتونکي ډېر زیات وي، او د ورځې په رڼا کې هر څوک هر شی په ښه شان سره وګوري، او هیڅ یوه اشتباه په منځ کې واقع نشي».

فَتَوَلَّىٰ فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهُ ثُمَّ أَتَىٰ ﴿٦٠﴾

پس مخ وګرځاوه (خپلو مشرانو ته) فرعون پس راټول یې کړل (اسباب آلات) د مکر فریب خپل بیا راغی (موعد ته سره له جادوګرانو او اتباعو خپلو).

تفسیر: د دغې خبرې د غوټه کولو څخه وروسته فرعون له مجلس څخه پاڅېد، او د کوډګرانو د ټولولو په ترتیباتو یې لاس پورې کړ، په هم هغه ټاکلي وخت د مقابلې په میدان کې په داسې حال حاضر شو، چې د کوډګرانو یو لوی فوج له ده سره وو، له دوی سره د انعاماتو او اکرامونو لوېې وعدې هم کړی شوې وې، او دوی ګرد په دې باندې ګمارلي شوي وو، چې په هر ډول سره چې کیږي، ښایي چې موسی علیه السلام ته ماتې ورکړئ، ګواکې دوی د حق او حقانیت د مغلوبولو په فکر کې وو.

قَالَ لَهُمْ مُوسَىٰ وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوا عَلَى اللَّهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ ۖ وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرَىٰ ﴿٦١﴾

وویل دغو (ساحرانو) ته موسی: (نازل دې کړي الله پر تاسې) هلاکت د تاسې، مه تړئ پر الله باندې دروغ؛ پس هلاک به کړي تاسې په عذاب سره، او په تحقیق خراب او ناامیده شو هر هغه څوک چې دروغ یې وتړل (پر الله).

تفسیر: معلومیږي چې په دغه مجمع کې موسی علیه السلام هر یوه ساحر ته د ده له حاله سره سم پند او نصیحت فرمایلی وو، کله چې کوډګران د حق په مقابله په جادو سره کوونکي وو، نو هغوی ته یې تنبیه ورکوله چې ګورئ ! په لوی لاس خپل ځانونه هلاکت کې مه اچوئ ! د الله تعالی د قدرت نښې او معجزې او د انبیاوو علیهم السلام معجزو ته سحر ویل، او بې حقیقته شیان د ثابت شویو شیانو او حقائقو په مقابله کې وړاندې کول ګواکې پر پاک الله دروغ تړل دي، اما د دروغ تړونکو خاتمه او انجام له سره ښه نه دی، بلکه اند ښښه شته چې پر داسې خلقو اسماني آفت نازل شي، او د دوی بېخ او بکر وباسي، او بنیاد او اساس یې ور وران کړي.

فَتَنَازَعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ وَأَسَرُّوا النَّجْوَىٰ ﴿٦٢﴾

پس سره جګړه وکړه دغو (ساحرانو) په کار خپل پخپلو منځونو کې، او پټ یې وساته دغه راز (په منځ خپل کې).

تفسير: د موسى عليه السلام له دغې موعظې او تبليغ څخه د کوډګرانو په جرګه کې سخته وېره او اند ښنه ورپيدا شوه، او پخپلو منځونو کې يې په جګړو او مناقشو لاس پورې کړ، بالآخر وروسته له ډېرو مناظرو، مخالفتونو اومنازعو د فرعون له اثره متأثر شول، او هغه خبرې او اترې يې وکړې چې وروسته راځي:

قَالُوٓا۟ إِنْ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ يُرِيدَانِ أَن يُخْرِجَاكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ ٱلْمُثْلَىٰ ﴿٦٣﴾

وويل (جادوګرانو) دا دواړه خامخا ساحران دي اراده لري دوی دواړه چې وباسي تاسې له ځمکې (ملک) د تاسې په سحر خپل سره، او بوځي (محو کړي دوی دغه) لاره (د دين) د تاسې چې ډېره غوره ده.

تفسير: يعنې چې له پخوا راهيسې ستاسې کوم دين او رسوم جريان لري، هغه له منځه لرې کړي، او خپل دين هم رائج کړي، چې د هغه په زور په دغه ملک کې ستاسې عزّت، پت، ګټه او شته، همدغه دواړه وروڼه غواړي چې له تاسې څخه وشکوي، او يواځې همدا دواړه پرې قابضان شي.

فَأَجْمِعُوا۟ كَيْدَكُمْ ثُمَّ ٱئْتُوا۟ صَفًّا ۚ وَقَدْ أَفْلَحَ ٱلْيَوْمَ مَنِ ٱسْتَعْلَىٰ ﴿٦٤﴾

پس راجمع کړئ تاسې (اسباب د سحر او) مکر خپل، بيا راشئ ميدان د معارضې ته صف صف، او په تحقيق بريالی شو نن ورځ هغه څوک چې غالب شو.

تفسير: يعنې د موقع اهميت وپېژنئ ! وقت له لاسه مه باسئ ! په پوره همّت او قوّت سره ګرد يو ځای شئ ! او د دوی د پړه کولو تدبير وکړئ ! او دفعتًا داسې حمله پرې وروړئ ! چې په يو وار کې د دوی قدمونه وښويږي او وپرځيږي، چې د نن ورځې جګړه فيصله کوونکې جرګه ده، د نن ورځې برى دائمي کاميابي او د تل برى دى، هر هغه فريق چې نن غالب او بريالی شي؛ نو هغه د همېشه لپاره منصور او مفلح ګڼلی کيږي.

قَالُوا۟ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلْقِىَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقَىٰ ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلْ أَلْقُوا۟ ۖ فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ ﴿٦٦﴾

وويل (کوډګرانو) ای موسی ! يا به ته غورځوې (اول همسا خپله) او يا به شو مونږ اول د هغه چا چې غورځوي (همسا خپله). وويل (موسی) بلکه وغورځوئ تاسې ړومبی ! (نو واچول ساحرانو اسباب د سحر خپل)، پس ناڅاپه (دغه وخت) هغه پرې د دوی او همساګانې د دوی په خيال کې راوستې کېدې دغه (موسی ته) له وجه د سحر د دغه (ساحرانو) داسې چې ښکه دغه (ماران دي چې) منډې وهي (او ځغلي).

تفسير: موسی عليه السلام په ډېرې بې پروايی سره جواب ورکړ، چې نه ړومبی تاسې خپلې نندارې راوښيئ، او خپلې چارې مو رانښکاره کړئ ! څو د باطل د زور ازمويلو څخه وروسته د حق غلبه په پوره ډول سره درښکاره شي، دغه قصه د الأعراف سورت په (۱۲) رکوع کې پخوا له دې نه هم ليکلې شوې ده، هلته دې ولوسته شي.

فَأَوْجَسَ فِى نَفْسِهِۦ خِيفَةً مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾

بيا وموندله (موسی) په نفس خپل کې وېره (چې خلق به د سحر او معجزې فرق ونشي کړی او ګمراه به پاتې شي).

تفسير: يعني د کوډګرانو د دغې چارې د ليدلو څخه ناپوهان تېر نه وځي، او د سحر (کوډو) او د معجزې په منځ کې به سره فرق ونه کړی شي، نو په دغه صورت کې به د حق غلبه نه واضح کيږي، د خوف دغه مطلب د وروستني جواب څخه څرګندېږي.

قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنْتَ الْأَعْلَىٰ ﴿٦٨﴾

ومو ويل (موسی ته) مه ويرېږه ! بېشکه ته چې يې همدا ته يې ډېر غالب.

تفسير: يعني وېره له خپل زړه څخه وباسه ! او دغسې وسوسې ته په خپل زړه کې ځای مه ورکوه ! الله تعالی خامخا حق ته برې او غلبه ورکوي، او تل يې په ارتقاء او اعتلاء کې ساتي.

وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوا ۖ

او وغورځوه هغه شی چې ښي لاس د تا کې دی، چې له حلق څخه ښکته تېر کړي هغه شيان چې دوی جوړ کړي دي.

تفسير: يعني خپله همسا په ځمکه وغورځوه ! چې د دوی دغه ګردې کوډې او پلمې يوه نمړۍ او ګوله کړي، او ميدان د دوی له وجوده پاک شي.

إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ ۖ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾

بېشکه هغه شی چې جوړ کړی دی دوی (او ميدان د مقابلې ته يې حاضر کړی دی) مکر د ساحر دی، او برې نه مومي ساحر (کوډګر) هر چېرته چې راشي (او وي).

تفسير: يعني د کوډګرانو کوډې، سحر، جادو او نورې پلمې (تدبيرونه) چې څومره دي، او تر هرې اندازې پورې چې ورسيږي، د حق په مقابله کې له سره برې نشي موندلی، او نه پخپله کوډګر چېرې فلاح موندلی شي، نو ځکه په حديث کې د کوډګر د قتل حکم ورکړی شوی دی.

فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ هَارُونَ وَمُوسَىٰ ﴿٧٠﴾

پس وغورځول شول کوډګران (نسکور) په دغه حال کې چې سجده کوونکي وو (الله ته) (نو کوډګرانو) وويل: ايمان مو راوړی دی په رب د هارون او موسی.

تفسير: دغه کوډګران چې ډېر فني سړي او د تخصص خاوندان وو، سمدلاسه وپوهېدل چې دغه له سره سحر نشي کېدی، او علی اليقين دغه له سحره د پاسه بل کوم حقيقت او کيفيت لري، نو في الحال د دوی زړونه د ايمان په رڼا سره روښان شول، او د پاک الله د عظمت او قدرت په مقابل کې سر په سجده ولوېدل، دغه قصه د «الأعراف» سورت په ۱۳ رکوع کې ليکلی شوی ده.

قَالَ آمَنتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۖ

وويل (فرعون) چې: ايمان راوړو تاسې په ده باندې پخوا له هغه چې اجازه درکړم زه تاسې ته، بېشکه دا موسی چې دی خامخا مشر د تاسې دی هغه چې ښوولی يې ده تاسې ته جادو.

تفسیر: یعنې بې ځما له اجازې او حکم صادرولو څخه تاسې ایمان راوړ، او ځما فیصلې ته مو له سره غوږ کښنبود او منتظر نشوئ، نو معلوم شو چې تاسې او موسی علیه السلام پخپلو منځونو کې سره روغه او جوړښت سره کړی دی، او دغه مقابله مو داسې رابنکاره شوه، لکه د زرګرانو جنګ چې په دغه سره غواړئ چې عوامّ الناس وغولوئ، لکه چې د «الأعراف» په سورت کې هم مذکور شو.

فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَا أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ ﴿٧١﴾

نو اوس به پرې کړم زه خامخا لاسونه د تاسې، او پښې د تاسې تېروبېر (یعنې ښی لاس او کښې پښه - یا کین لاس او ښی پښه)، او خامخا ځوړند به کړم هرومرو تاسې په تنو د خرماوو کې، څو ستاسې د حال د لیدلو څخه ګردو ته پند او عبرت حاصل شي، او خامخا معلوم به کړئ تاسې هرومرو چې کوم یو له مونږ نه ډېر سخت دی له جهته د عذاب، او ډېر پاتې کېدونکی دی (زه که موسی؟).

تفسیر: یعنې تاسې پخپل دغه ایمان راوړلو سره داسې راڅرګندوئ چې همدا مونږه منجي یو او نور ګرد خلق به په ابدي عذاب کې اخته او مبتلا کیږي، نو اوس به درمعلوم شي چې د چا عذاب زیات سخت دی، او تر زیات وخت پورې پاتې کېدونکی دی.

قَالُوا لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا فَاقْضِ مَا أَنتَ قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِي هَٰذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴿٧٢﴾ إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ ۗ وَاللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴿٧٣﴾

وویل (کوډګرانو) چې له سره به غوره نه کړو تا په هغه چې راغلی دی مونږ ته له بنکاره وو معجزو، او له هغه (الله) چې پیدا کړي یې یو مونږ، پس وکړه ته هغه کار چې ته یې کوونکی یې، بېشکه همدا خبره ده چې حکم به ورکړې ته په دې ژوندون لږ خسیس (په قتل او نورو تعزیراتو). بېشکه مونږ ایمان راوړی دی په رب خپل، چې وبښي مونږ ته ګناهونه ځمونږ، او هغه چې تا مجبوره کړي یو مونږ په هغه شي باندې له سحره (په مقابل د معجزې کې)، او الله خیر غوره دی (له جهته د جزاء ورکولو له تا نه) او ډېر باقي پاتې کېدونکی دی (عذاب د ده).

تفسیر: یعنې مونږ داسې صاف حقّاني دلائل ستا له خاطره نشو پرېښودی، او د خپل حقیقي خالق د خوښۍ په مقابل کې ستا هیڅ پروا نشو کولی، اوس هر څه چې ستا له لاسه کېدی شي؛ ویې کړه، ستا خو هم دغومره زور رسیږي چې ځمونږ دغه فاني دنیوي ژوندون ختم کړې، ځمونږ ارزو او تمنّا همدا ده چې ځمونږ مالک او مولی له مونږه خوښ او رضاء شي، او ځمونږ ټول ګناهونه خصوصًا همدغه ګناه چې ستا د حکومت له خوفه بالجبر ځمونږ له لاسه صادره شوې ده، «یعنې چې د حق مقابله مو له جادو سره کړې ده»؛ معاف وفرمایې.

إِنَّهُ مَن يَأْتِ رَبَّهُ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴿٧٤﴾

بېشکه شان دا دی هر څوک چې راشي رب خپل ته کافر (په عقبی کې)؛ پس بېشکه شته ده ته جهنّم دوزخ چې نه به مري په دې دوزخ کې، او نه به ژوندون کوي (د ژوندون په څېر).

تفسیر: یعنې انسان لره پکار دي چې اول د آخرت په فکر کې اوسې، او داسې دې ونه کړي چې د مخلوق په اطاعت کې د خالق معصیت وکړي، ځکه چې د داسې مجرمانو د هستوګنې ځای ډېر بد ځای دی، چې له هغه څخه نجات او ژغورنه (بچ کېدنه) په هیڅ یوه صورت سره ممکنه نه ده.

وَمَنْ يَأْتِهِ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ فَأُولٰٓئِكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى ﴿٧٥﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِينَ فِيهَا ۚ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰى ﴿٧٦﴾

او هر څوک چې راشي دغه (الله) ته (په قيامت کې) په دې حال کې چې مؤمن وي، چې په تحقيق کړي يې وي نبه (عملونه په دنيا کې)؛ پس دغه مؤمنان چې دي شته دوی ته مرتبې ډېرې اوچتې. (چې هغه مرتبې) جنتونه دي د (تل) هستوګنې، چې بهيږي له لاندې (د مانيو او ونو) د دوی ويالې، همېشه به وي دوی په دغو (جنتونو) کې، او دغه (درجې او جنتونه) جزاء ده د هغه چا چې ځان يې پاک کړی وي (له خيرو د کفر او له ګناهونو).

وَلَقَدْ أَوْحَيْنَآ إِلٰى مُوسٰٓى ۙ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا ۙ لَّا تَخٰفُ دَرَكًا وَّلَا تَخْشٰى ﴿٧٧﴾ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِ فَغَشِيَهُمْ مِّنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ ﴿٧٨﴾

او خامخا په تحقيق وحي کړې وه مونږ موسی ته داسې چې د شپې وباسه (له مصره) بندګان ځما (بني اسرائيل)، پس جوړه کړه دوی ته (په وهلو د همسا خپلې سره) لاره په بحر کې وچه، نه به ويرېږي ته په تعقيب (د فرعون له موندلو او نيولو) او نه ويرېږي (له ډوبېدلو). پس راغی په هغو (بني اسرائيلو) پسې (له وروسته) فرعون سره د لښکرو د ده؛ پس لاندې کړل دوی له بحر څخه هغه څيز چې لاندې يې کړل.

تفسير: کله چې فرعونيانو په ميداني مقابله کې ماتې وموندلې، او کوډګران مشرف بالايمان شول، او د بني اسرائيلو ثقل څه دروند شو، او موسی عليه السلام له کلو کلو راهيسې د الله تعالی باهره آيات وروښوول، او هر شان حجّت يې په اتمام ورساوه، خو سره له هغه فرعون دغې خبرې ته تيار او آماده نشو چې حق ومني، يا بني اسرائيلو ته آزادي او خپلواکي ورکړي؛ دلته د الله تعالی داسې حکم پر موسی عليه السلام صادر شو، چې بني اسرائيل له خپله ځانه سره روان کړه ! او د شپې له مخې له مصره هجرت وکړئ !، څو په دغه وسيله سره بني اسرائيل له مظلوميت او غلامی څخه نجات وموميِ، په لاره کې به سمندر (د قلزم بحيره) حائل کيږی، ليکن تا غوندې د يو اولوالعزم نبي په لاره کې نه ښايي چې سمندر هم حائل شي، کله چې موسی عليه السلام له همدغه هدايت سره سم پر سمندر باندې خپله همسا ووهله، چې په هغه سره اوبه له سره تر بېخه پورې څيرې او دولس کوڅې شوې، او الله تعالی باد ته امر وکړ، چې سمدلاسه دغه ځمکه وچه کړه ! لکه چې آناً فاناً د سمندر بېخ وچه سمه صافه لاره شوه، او په دواړو اطرافو کې د سمندر اوبه لکه چې ډېر لوی لوی غرونه ولاړ وي: ﴿فَانْفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ﴾ «پس څيرې شو بحر، پس وګرځېده هره ټوټه د اوبو لکه لوی غر»، نو بني اسرائيل پر دغه لاره بې له کومه تکليف او مشقته تېر شو، وروسته فرعون سره له خپل عظيم الشان فرعوني لښکر د دوی د تعاقب او نيولو لپاره راغلل، او دغه وچه سمه صافه لاره يې ليدلې په بني اسرائيلو پسې هلته ننوتل، څه مهال (وخت) چې بني اسرائيل له سينده بيخي پورې وتل، او فرعون سره له خپله فرعوني لښکره د سيند منځ ته ورسېدل؛ الله تعالی سمندر ته امر ورکړ چې له دواړو خواوو اوبه سره يو ځای کړه ! او فرعون سره له فرعونيانو په خپله غېږ کې ټينګ ونيسه !.

وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُ وَمَا هَدٰى ﴿٧٩﴾

او ګمراه کړ فرعون قوم خپل او (ورته يې) ونه ښودله لاره سمه.

تفسير: يعني په ژبه سره خو يې ډېرې دعوى کولې چې: ﴿وَمَآ أَهۡدِيكُمۡ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ﴾ ليکن ده خپل قوم ته څرنګه ښه لار وروښوده؟ بېشکه چې فرعون دغه مثال پر فرعونيانو ممثل کړ.

يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ قَدۡ أَنجَيۡنَٰكُم مِّنۡ عَدُوِّكُمۡ وَوَٰعَدۡنَٰكُمۡ جَانِبَ ٱلطُّورِ ٱلۡأَيۡمَنَ وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَنَّ وَٱلسَّلۡوَىٰ ۝٨٠ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ وَلَا تَطۡغَوۡاْ فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبِي وَمَن يَحۡلِلۡ عَلَيۡهِ غَضَبِي فَقَدۡ هَوَىٰ ۝٨١

(وفرمايل الله چې) ای بني اسرائيلو ! په تحقيق نجات درکړ مونږ تاسې ته له دښمنه د تاسې، او وعده کړې ده مونږ له تاسې سره (په واسطه د موسى) جانب د طور (چې) ښى (جانب دى)، او نازل کړ مونږ پر تاسې من (ترنجبين) او سلوى (وريت کړي مړغان)، خورئ تاسې له طيبو (پاکيزه وو شيانو) هغه چې رزق روزي مونږ درکړې ده تاسې ته، او مه کوئ تجاوز په هغه (مرزوق کې په اسراف، اذخار، بخل او کفران سره)، پس واجب لازم راکوز به شي پر تاسې غضب قهر ځما، او هر څوک چې لازم واجب راکوز شي پر ده غضب ځما؛ پس په تحقيق سخت وغورځېد (په هاويه کې).

تفسير: په دغه سره الله تعالى بني اسرائيلو ته پند ورکوي چې وګورئ مونږ پر تاسې باندې څرنګه احسانات او انعامات فرمايلي دي، د دغو احساناتو اوانعاماتو په مقابل کې تاسې ته دغه لايق او مناسب وو، چې هغه حلال، طيب، لذيذ، خوندور او پاک شيان چې الله تعالى تاسې ته عنايت فرمايلي دي؛ د هغه استعمال په ډېر شوق او ذوق وکړئ ! او په دغه معامله کې له حده مه تېرېږئ، لکه داسې چې ناشکري او اسراف وکړئ ! يا په دغه فاني تنعماتو کې بيخي محو او ډوب شئ، او د الله تعالى واجبه حقوق اداء نه کړئ، يا دغه د الله تعالى درکړې شوى مال او دولت په مناهيو او معاصيو کې ولګوئ، يا هر چېرې او هر ځاى کې چې د تعديل، تأويل، مکر او فرېب څخه ممانعت کړى شوى دى؛ هلته په دغو تأويلاتو، مکر او فرېب پسې مه ګرځئ ! الغرض د الله تعالى درکړې نعمتونه د طغيان او عصيان آله له سره مه ګرځوئ !.

وَإِنِّي لَغَفَّارٞ لِّمَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا ثُمَّ ٱهۡتَدَىٰ ۝٨٢

او خامخا زه هرومرو ښه مغفرت کوونکى يم هغه چا ته چې توبه يې وويسته (له شرکه) او ايمان يې راوړ (په ټولو مؤمن به شيانو)، او نېک عمل يې وکړ، او بيا (په همدغه سمه صافه لار تر مرګه) مستقيم پاتې شو.

تفسير: د مغضوبينو په مقابل کې دغه د مغفورينو بيان وشو،يعني هومره چې لوى مجرم وي، که د زړه په صدق سره تائب شي، او د ايمان او صالح عمل لاره ځان ته غوره کړي، او پر همدغه د ايمان پر سمه صافه لاره تر مرګه پورې مستقيم پاتې شي؛ نو د الله تعالى په دربار کې د مغفرت او د رحمت هيڅ کمى او تقليل نشته.

وَمَآ أَعۡجَلَكَ عَن قَوۡمِكَ يَٰمُوسَىٰ ۝٨٣ قَالَ هُمۡ أُوْلَآءِ عَلَىٰٓ أَثَرِي وَعَجِلۡتُ إِلَيۡكَ رَبِّ لِتَرۡضَىٰ ۝٨٤

او څه شي راګرځندى کړې ته (چې ړومبى راغلې) له قومه خپله اى موسى !. وويل (موسى) دوى دغه دي (روان دي) راپسې وروسته ځما (را روان دي)، او جلتي مې وکړه تاته (په راتلو کې) اى ربه ځما لپاره د دې چې راضي شې ته (له ما نه).

تفسير: موسى عليه السلام حسب الوعده په ډېره مينه او اشتياق سره «طور» ته ورسېد، نبايي چې داسې حکم هم پرې شوی وي؛ چې د خپل قوم ځينې مشران او غټان هم له خپله ځانه سره راوله، او هغوی به ترې لږ څه وروسته پاتې شوي وي، او موسى عليه السلام به په ډېر شوق او ذوق سره مخ کې وړاندې تللی وي، نو الله تعالى وفرمايل: ای موسى ! دومره ګړندی ولې راغلې؟ او خپل قوم او ملګري دې ولې وروسته پرېښودل؟ عرض يې وکړ چې ای رب العالمينه ! ستا د خوښۍ او رضاء لپاره ډېر ژر حاضر شوم، او قوم هم دومره له ما ځنې لرې نه دی، دغه دی راپسې راځي، كذا في التفاسير، ويحتمل غير ذلك، والله أعلم.

قَالَ فَإِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْ بَعْدِكَ وَأَضَلَّهُمُ السَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾

وفرمايل (الله) پس بېشکه مونږ چې يو په تحقيق ومو ازمويه قوم د تا وروسته له (راتللو ستا)، او ګمراه کړل دوی سامري (په عبادت د ځُسي سره).

تفسير: يعنې ته دلته راغلې، او ما ستا قوم په يو ډېر سخت امتحان کې غورځولی دی، چې د هغه سبب په عالم أسباب کې سامري ګرځېدلی دی، ځکه چې د هغه په اضلال او اغواء سره بني اسرائيلو د موسى عليه السلام په غياب کې د ځُسي په عبادت لاس پورې کړ، چې د هغه قصه د «الأعراف» سورت په (١٨) رکوع کې هم تېره شوې ده.

فَرَجَعَ مُوسَىٰ إِلَىٰ قَوْمِهِ غَضْبَانَ أَسِفًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۚ أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ أَمْ أَرَدْتُمْ أَنْ يَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِنْ رَبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُمْ مَوْعِدِي ﴿٨٦﴾

پس راوګرځېد موسى قوم خپل ته ډېر غضبناک خورا غمجن، وويل (موسى) ای قومه ځما ! آيا وعده نه وه کړې له تاسې سره رب د تاسې وعده حسنه (نېکه ښه د ورکولو د تورات)؟، آيا پس اوږده شوه پر تاسې زمانه (د بيلتون ځما)؟، او که اراده کړې وه تاسې چې لازم واجب راکوز شي پر تاسې غضب قهر له جانبه د رب د تاسې؛ پس وعده خلافي وکړه تاسې له ما سره؟.

تفسير: يعنې ځما په متابعت کې تاسې ته د ديني او دنيوي هر قسم نېکۍ دررسېږي، لکه چې ډېره عظيم الشأنه نيکي همدا اوس تاسې پخپلو سترګو سره وليدله، او هغه څه چې باقي دي؛ هغه عنقريب دررسېږي، آيا له دغې وعدې څخه ډېر زيات مدّت تېر شوی دی؟ چې تاسې دغه تېر ګرد احسانات هېر کړل، او د وروستنيو انعاماتو له ډېر انتظار کولو څخه سترې ستومان شوئ؟ يا عمدًا او په لوی لاس مو له ما سره وعده خلافي وکړه؟ او د توحيد پر دين قائم پاتې نشوئ؟ او د الله تعالى غضب مو ځان ته غوره کړ (كذا فسره الحافظ ابن كثير رحمه الله).

قَالُوا مَا أَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَا أَوْزَارًا مِنْ زِينَةِ الْقَوْمِ فَقَذَفْنَاهَا فَكَذَٰلِكَ أَلْقَى السَّامِرِيُّ ﴿٨٧﴾

وويل (بني اسرائيلو) چې نه مو دی کړی خلاف د وعدې د تا په اختيار خپل سره، وليکن مونږ بار کړی شوي يو په پټو له ګانو (زېوراتو) او کالیو (کپړو) د قبطيانو د قوم، پس ومو غورځولې هغه (ګانې په اور کې)، او همداسې وغورځولې (ګانې په اور کې) سامري.

تفسير: يعنې مونږ پخپل اختيار او په خپل سر داسې حرکت نه دی کړی، په دغه حرکت باندې مونږ د «سامري» په تحريک او لار ښوونه سره اقدام کړی دی، صورت يې داسې وو چې د فرعونيانو د ګانو او کالیو (جامو) هغه بار چې ځمونږ په اوږو بار وو؛ مونږ نه پوهېدلو چې له هغه سره څه معامله وکړو، نو پخپلو منځونو کې مو مشوره سره وکړه، او وروسته له هغه مو داسې غوټه کړه، چې هغه هيسته وغورځوو، نو «سامري هغه زېورات واخيستل، او په اور کې يې

ویلي کړل، او له هغه ځني يې د ځُسي تصوير جوړ کړ، او هغه يې راودراوه، دغه قصه د «الأعراف» په سورت کې هم تېره شوې ده، هلته دې ولوستل شي.

تنبيه: د فرعونيانو ګانې څرنګه د بني اسرائيلو په لاس ورغلې وې؟ يا به يې هغه له دوی نه مستعار اخيستې وې، يا د غنيمت د مال په ډول به دوی ته په لاس ورغلې وې، يا به بل کوم صورت لري، په دې کې د مفسّرينو اختلاف دی.

فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُ خُوَارٌ فَقَالُوا هَٰذَا إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾

نو (يې) راوويست دوی ته (له هغه خندق څخه) يو ځُسی يو جسد چې وو ده ته غږ، نو وويل (سامري او تابعانو يې) دغه د تاسې معبود دی او معبود د موسی دی، پس هېر کړی دی ده (خپل إلَه دلته او طور ته تللی دی).

تفسير: يعنې د موسی عليه السلام څخه هېر شوي دي چې د الله تعالی سره د خبرې کولو لپاره طور ته تللی دی، الله خو دلته موجود دی، يعنې همدغه ځُسی دی (العياذ بالله)، ښايي دغه خبره به د دغو يهودانو وي چې په دوی کې سخت غالبان وو.

أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴿٨٩﴾

(نو فرمايي الله) آيا نه ګوري دوی بېشکه شان دا دی چې بېرته نه ګرځوي دا (ځُسی) دوی ته خبره، او نه مالک دی دوی ته د ضرر (د دفع کولو)، او نه د نفعې (د رسولو).

تفسير: يعنې دغه راڼده په دغومره غټه خبره هم ونه پوهېدل، چې دغه بُت چې نه له چا سره خبرې کولی شي، نه چاته لږ څه نفع رسولی شي، او نه د څه نقصان رسولو اختيار لري، هغه څنګه معبود کېدی شي؟.

وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَارُونُ مِن قَبْلُ يَا قَوْمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِ ۖ وَإِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمَٰنُ فَاتَّبِعُونِي وَأَطِيعُوا أَمْرِي ﴿٩٠﴾

او خامخا په تحقيق وويل دوی ته هارون پخوا (له راتللو د موسی نه له طوره) ای قومه ځما ! بېشکه همدا خبره ده چې ازمويلي شوي يئ تاسې په (عبادت) د ځُسي، او بېشکه رب د تاسې همدا «رحمان» دی (نه بل څوک)، نو متابعت وکړئ ځما او اطاعت وکړئ د حکم ځما.

تفسير: يعنې هارون عليه السلام په پسته ژبه سره دوی پوهولي وو، چې پر دغه ځُسي تاسې غوليدلي يئ، دا له سره ستاسې معبود نشي کېدی، ستاسې معبود يواځې رحمن دی، زه د موسی عليه السلام خليفه يم، او بالذات پخپله هم د نبوّت خاوند يم، که خپله ښېګڼه (فايده) غواړئ؛ نو پر تاسې لازم دي چې ځما په طريقه او لاره لاړ شئ، اوځما خبره ومنئ، او د سامري په ټکی مه خطا وځئ، چې هغه مو اغواء کوي، او له لارې مو وباسي.

قَالُوا لَن نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عَاكِفِينَ حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا مُوسَىٰ ﴿٩١﴾

وويل (بني اسرائيلو چې:) همېشه به اوسو په (عبادت د) دې ځُسي محکم ولاړ تر هغه پورې چې بېرته راشي مونږ ته موسی (له طوره).

قَالَ يَا هَارُونُ مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوا ﴿٩٢﴾ أَلَّا تَتَّبِعَنِ ۖ أَفَعَصَيْتَ أَمْرِي ﴿٩٣﴾

وويل موسی (پس له راتګه خپله له طوره): ای هارونه ! څه شي منع کړی وې ته کله چې تا وليدل دوی چې ګمراهان شول له دې چې متابعت دې ونه کړ (د حکم) ځما، آيا پس نافرماني وکړه تا له حکمه ځما؟.

تفسير: يعني ما ته خپل خليفه درولی وې، او حکم مې درکړی وو چې ځما په غياب کې د دوی اصلاح کوه، او د مفسدانو په لاره مه ځه، نو بيا تا څه اصلاح وکړه؟ الغرض تا د داسې صريحې ګمراهۍ له ليدلو سره ولې ځما د اصولو او طريقې متابعت ونه کړ؟.

قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِيٓ

وويل (هارون): ای ځويه د مور ځما ! مه نيسه ږيره ځما او نه (ويښتان د) سر ځما.

تفسير: موسی عليه السلام له ډېره قهره او سختې غوسې هارون عليه السلام يې له ږيرې او د سر له ويښتانو څخه کلک نيولی وو، د دې مفصّله قصه د «الأعراف» په (١٨ رکوع) کې تېره شوې ده، د هغه په فوائدو کې دې ولوستله شي.

إِنِّي خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِي ﴿٩٤﴾

بېشکه زه وويرېدم له دې نه چې وبه وايې ته (راته) چې بېلتون دې واچاوه په منځ د بني اسرائيلو کې (که چېرې ما جنګ کړی وی)، او ودې نه کتل امر ځما ته.

تفسير: يعني ځما په فکر کې همدغه خبره راغله چې ستا د راتګ انتظار له دې نه بهتر دی چې زه ستاسې په غياب کې کوم کار وکړم، چې د هغه لامله به په بني اسرائيلو کې شقاق او نفاق واقع شي، ځکه ظاهر دی که مقابله يا انقطاع کېده: نو څه خلق به له ما سره کېدل، او ډېر کسان به مخالف کېدل، نو زه له دې ويرېدم چې ته د خپل راتګ په وخت کې دغه الزام په ما وانه ړوې چې ځما د راتګ انتظار دې ولې ونه کړ؟ او په قوم کې دې ولې داسې تفرقه وغورځوله.

قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يَٰسَٰمِرِيُّ ﴿٩٥﴾

وويل (موسی) پس څه وه ستا کار ای سامري ! (چې خلق دې ګمراه کړل).

تفسير: يعني موسی عليه السلام د هارون عليه السلام د جواب او سوال څخه وروسته (سامري) يې تر قهر او عتاب لاندې ونيو، او ترې لازمه پوښتنې يې شروع کړې، او ويې ويل چې: ته دې په رښتيا خپل حقيقت بيان کړه ! دغه حرکت دې د څه لامله کاوه، او بنا پر کومو اسبابو او عواملو بني اسرائيل ستا په لوري بې لارې او ګمراه شول؟.

قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوا۟ بِهِۦ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ أَثَرِ ٱلرَّسُولِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتْ لِي نَفْسِي ﴿٩٦﴾

وويل (سامري) چې نظر غورځولی وو ما په هغه شي باندې چې نظر نه وو غورځولی دوی په هغه شي باندې، پس واخيستله ما يو موټی (خاوره) له قدمه د (آس د) رسول (جبرئيل)، پس ومې غورځوله دا (خاوره په خوله ددې خُسي کې نو پر غږېدو سو)، او همداسې ښايسته کړی وو ماته (دا کار) نفس ځما.

تفسير: سامري وويل چې: «ځما نظر پر داسې يو شي ولوېد، چې د نورو فهم هغه ته ونشو، يعني ما د الله تعالی ليږلی ملک ـ پرښته (جبرئيل) پر آس سور وليد، او د ده د پښو يا د ده د آس د سوو له خاورو څخه مې يو موټی خاوره واخيسته، او بيا هم هغه مې د خُسي د سرو زرو په مجسمه کې ورتوی کړی»، د سامري په زړه کې دغه فکر راغلی وو، چې د روح القدس د پښو خاورو کې به هرومرو څه نه څه تأثير وي.

تنبيه: د دې آيت کوم تفسير چې پاس بيان شوی دی، له کرامو صحابه وو، تابعينو او مفسرينو علماوو څخه همدغه منقول دی، ځينو زائغينو چې پر دې باندې طعن کړی دی، او د آيت لرې له صوابه تأويلات يې کړي دي، د هغه کافي جواب د «روح المعاني» خاوند ورکړی دی، دلته د دومره بسط موقع نه ده، من شاء فليراجع.

قَالَ فَاذْهَبْ فَإِنَّ لَكَ فِي الْحَيٰوةِ أَنْ تَقُولَ لَا مِسَاسَ

وويل (موسى): پس ځه (له مونږه لرې شه !) پس بېشکه شته تاته په دغه ژوندون کې دا (عاقبت) چې وبه وايي (هر چاته چې ويې ويني) چې مه لګېږه (په ما).

تفسير: يعنې ماته دې لاس مه راوړاندې کوه ! او مه راسره نژدې کېږه ! او بيخي لرې او جلا راځخه ګرځه !، کله چې «سامري» د ځُسي لوبه او ننداره يې د دې لامله جوړه کړې وه، چې د لويۍ، رياست، او جاه خاوند شي، او خلق له ده سره ملګري شي، او دی د خپل مشر او سردار په توګه ومني؛ نو ځکه هغه ته په دغه صورت سره مناسبه او کافي سزا ورکړه شوه، چې هيڅوک دې له ده سره نه نژدې کيږي، بلکه سامري په دې مأمور او مجبور شو، چې ودانی ځخه لرې په صحراء او بيديا کې لکه يو ذليل ځنګلي او وحشي ځناور اوسيږي، او له سره دی د خلقو سره نه يو ځای کيږي.

وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّنْ تُخْلَفَهُ

او بېشکه تاته (ده په آخرت کې) وعده (د عذاب) چې له سره به خلاف ونه کړ شي له تا سره له هغې وعدې ځخه.

تفسير: دا يې چې فرمايلي دي، چې دا يوه داسې وعده ده چې له سره ترې نه مخالف کيږي؛ ښايي ترې اخروي عذاب مراد وي.

وَانْظُرْ إِلَىٰ إِلٰهِكَ الَّذِي ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا لَّنُحَرِّقَنَّهُ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُ فِي الْيَمِّ نَسْفًا ﴿٩٧﴾

او وګوره معبود خپل ته دې هغه چې وې ته په عبادت د هغه کې محکم ولاړ (چې ځُسی دی)؛ خامخا سوځوو مونږ هرومرو هغه، بيا به يې بادوو، تار په تار کوو په سيند کې په بادولو، تار په تار کولو سره.

تفسير: يعنې ستا سزا خو همدا شوه، اوس ستا هغه ځُسی چې تا معبود درولی وو، او بيا دې پرې زړه بايللی وو، او ورته ناست وې، اوس يې ستا تر سترګو لاندې توټې توټې او ټکر ټکر کوم، او بيا يې په سخت اور کې سوځوم، او بيا يې ايره هم د سيند په هوا کې دوړوم، ځو دې عابدانو او مينانو ته دغه خبره ښه واضحه او ښکاره شي چې دغو نورو ته به ځه سود او زيان ورسوي؟ حال دا چې دی خپل د ځان ساتنه او حفاظت هم نشي کولی.

إِنَّمَا إِلٰهُكُمُ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴿٩٨﴾

بېشکه همدا خبره ده چې معبود ستاسې (چې مستحق د عبادت دی)؛ الله دی هغه چې نشته بل معبود مستحق د عبادت مګر هم دی دی، چې محيط دی دی پر هر ځيز له جهته د علم.

تفسير: د باطلو له لرې کولو او امحاء سره به موسی عليه السلام خپل قوم ته د حق په طرف دعوت کاوه، او داسې به يې ورته ويل چې: خسی ځه شی دی؟ هيڅ يو شی دی، چې ډېر لوی هم وي له سره معبود کېدی نشي، ربښتين او حقيقي معبود خو هغه يو ذات دی چې ماسوا له هغه ځخه د بل هيڅا عبادت عقلاً، نقلاً او فطرتاً نه دی جائز، او د هغه لا محدود علم هرې يوې ذرې لره هم محيط دی.

كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنبَاءِ مَا قَدْ سَبَقَ ۚ

همداسې (لکه چې د موسی قصه مو وکړه تاته؛) قصې کوو پر تا (یعنې تاته) له اخبارو د هغو امورو چې په تحقیق پخوا تېر شوي دي (له پخوانیو امتو)،

تفسیر: یعنې د موسی علیه السلام او د فرعون او د هغو د اقوامو د قصې په شان د ډېرو نورو پخوانیو اقوامو واقعات هم مونږ تاته او ستا په وسیله کړدې دنیا ته اوروو، چې په هغو کې ډېرې فائدې او د تشویق او ترغیب او ترهیب وسائل او وسائط شته، مثلاً د علم توفیر، د معجزاتو تکثیر، د انبیاوو او د مسلمینو تسلي او ډاډینه، د عقلمندانو عبرت او تذکیر، او د معاندانو په حق کې تهدید او ترهیب، وغیر ذلك من الفوائد.

وَقَدْ آتَيْنَاكَ مِن لَّدُنَّا ذِكْرًا ﴿٩٩﴾

او په تحقیق درکړی دی مونږ تاته خاص له جانبه خپله ذکر (پند چې قرآن دی).

تفسیر: یعنې قرآن عظیم الشأن مو درکړی دی، چې پر دغو عبرت ښوونکو واقعاتو باندې مشتمل دی.

مَّنْ أَعْرَضَ عَنْهُ فَإِنَّهُ يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وِزْرًا ﴿١٠٠﴾ خَالِدِينَ فِيهِ ۖ وَسَاءَ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حِمْلًا ﴿١٠١﴾

هر څوك چې مخ وګرځوي له دغه (قرآن یا له الله نه په نه ایمان راوړلو سره)؛ پس بېشکه دی به بار کړي (په ځان خپل) په ورځ د قیامت کې لوی بار (د عذاب). چې تل به وي په دغه (عذاب) کې، او بد دی دوی ته په ورځ د قیامت کې له جهته د بارولو.

تفسیر: یعنې له اعراض او تکذیب د ګناهونو کوم بار چې پر دوی باندې باریږي؛ له سره به نه سپکیږي، دوی به همېشه تر هغه لاندې وي، بیا د هغه پورته کول کوم د خندا او مسخرې خبره نه ده، څه وخت چې دوی دغه د عذاب بد او سخت درانه پېټي پورته کوي؛ نو هلته پوهیږي چې دوی څومره تر یوه درانه پېټي لاندې کېږتلي دي؟.

يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ ۚ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴿١٠٢﴾

په هغه ورځ کې چې وپوکل شي (دویم ځلي) په صور (شپېلی) کې، او راجمع به کړو مجرمان (کافران) په دغه ورځ شین سترګي.

تفسیر: یعنې د محشر د راوستلو په وخت کې به ډانده وي، یا ښایي همداسې د هغوی سترګې به شنې وي، چې د خلقو په نظر ښکاره شي، په هر حال که ډومبی معنی واخیستله شي؛ نو دغه د یوه خاص وخت ذکر دی، بیا به سترګې وپرانستلې شي، څو دوزخ او نور وویني: ﴿وَرَأَى الْمُجْرِمُونَ النَّارَ﴾ الآیة ـ (۱۵ جزء د الکهف سورت (۵۳) آیت (۷) رکوع)، ﴿أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ يَوْمَ يَأْتُونَنَا﴾ الآیة ـ (۱۶ جزء، د مریم سورت (۳۸) آیت، (۲) رکوع).

يَتَخَافَتُونَ بَيْنَهُمْ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا عَشْرًا ﴿١٠٣﴾

چې ورو ورو پټې پټې خبرې به کوي په منځ خپل کې (او داسې به وایي چې) درنګ نه دی کړی تاسې مګر لس (ورځې په دنیا کې).

تفسیر: یعنې دوی چې له قبره ووځي، او د آخرت د ورځې هولناك واقعات وګوري، او دغه اوږده ورځ ووینې؛ نو د قبر شپې ورته دومره لږې ښکاري چې ته به وایي یوه هفته یا لس ورځې یې هلته تېرې کړي دي، بلکه دنیا ډېر ژر

پرې تېره شوې ده، د دې دنيا مزې او خوندونه او اوږده اميدونه يې ګرد هيرېږي، د خپل عمر په خوشې ضايع کېدلو به ندامت کوي.

نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ إِذْ يَقُولُ أَمْثَلُهُمْ طَرِيقَةً إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا يَوْمًا ﴿١٠٤﴾

مونږ ښه عالمان يو په هغو اقوالو چې دوی يې وايي، کله چې ووايي ډېر کامل د دوی له حيثه د روش (چې فکر او عمل دی) چې: ځنډ (تأخير) نه دی کړی تاسې (په دنيا کې) مګر يوه ورځ.

تفسير: يعنې هغه چې د دوی په منځ کې زيات عقلمن، هوښيار او صائب الرأي وي، هغه به وايي: خانه ! لس ورځې؟ ! نه، لس ورځې چېرې؟ يواځې يوه ورځ يې وکښه ! ده ته يې زيات عقلمن او د ښې طريقې خاوند ځکه وويل چې: دی به د دنيا پـه زوال او فنـاء، او د آخرت په دوام او بقاء، او د هول په شدّت او نورو شيانو له نورو څخه ښه پوهېدلی وي.

وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا ﴿١٠٥﴾ فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ﴿١٠٦﴾ لَّا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا ﴿١٠٧﴾

او پوښتنه کوي له تا نه له (احواله د) غرونو (چې د دوی به څه احوال وي په ورځې د قيامت کې؟) پس ووايه دوی ته: تار په تار او تيت او پرک به کړي دغه (غرونه په شان د غبار) رب ځما په تار په تار کولو سره. پس پرې به ږدي دا ځمکه يو تش ډاګ هوار. چې نه به وينې ته په دغه (ځمکه) کې ښکته والی او نه اوچت والی.

تفسير: يعنې د قيامت پر ذکر به د حشر منکرين د استهزاء په ډول وايي، چې د داسې سختو سختو عظيم الشأنو غرونو حال احوال به څرنګه کيږي؟ آيا دغه به هم توتې توتې کيږي؟ د دوی په ځواب کې داسې ووايئ ! چې هو ! دالله تعالی د لامحدوده قدرت په مقابل کې غرونه څه عظمت او حقيقت لري؟ ! دغه غرونه هم په لږ وخت کې خاورې ايرې کيږي، او د غرونو ذرات او پڅرکي د ټکول شويو وړيو په شان په هوا کې الوځولی کيږي، او ځمکه به بيخي صافه او هواريږي، چې له سره به هيڅ لوړه او ژوره نه په کې ليدله کيږي، او د غرونو موانع او سدود بيخي له منځه ورک، صاف او پاکيږي.

يَوْمَئِذٍ يَتَّبِعُونَ الدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهُ

په دغه ورځ (د قيامت) کې به متابعت وکړي (دا مخلوق د بلنې) د بلونکي، نه به وي کوږوالی له دغې (بلنې د بلونکي څخه).

تفسير: يعنې هر چېرې چې پرښته غږ وکړي، او هر چېرې يې چې ورغږ کړي؛ ګرد خلق به سم برابر د غشي او د مردکي په شان هملته ورځغلي، نه به د غږ کوونکي په غږ کې څه کوږوالی وي، او نه د دغو منډو وهونکو په منډو، ورتګ او ځغاسته کې به څه کوږوالی او وړاندې وروسته ليدل کيږي.

وَخَشَعَتِ الْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمَٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا ﴿١٠٨﴾

او چپ به شي غږونه (له ډېره هيبته) لپاره د رحمان، پس نه به اورې ته مګر کشاری د قدمونو.

تفسير: يعنې د محشر د ورتګ په وخت کې پرته د پښو د کښهار او د ورو غږه بل هيڅ يو غږ او آواز نه اورېده کيږي، او د الله تعالی د خوف او هيبت لامله بل هيڅ يو غږ او غوږ به نه وي، که څوک څه وايي هم، خو دغومره ورو ورو به يې وايي چې ايله به يې شونډې خوځيږي، او بل هيڅ شی ترې نه څرګنديږي (ښکاره کيږي).

يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُ قَوْلًا ﴿١٠٩﴾

په دغه ورځ (قيامت) کې نه رسوي فائده شفاعت (هيڅا ته) مګر هغه چاته چې اذن کړی وي د هغه په حق کې رحمان (چې شفاعت يې وکړ شي)، او راضي وي (الله) له دغه (مشفوع څخه) له حيثيته د وينا.

تفسير: يعنې د هغه چا سپارش چليږي چې ورته د الله له طرفه د سپارش اجازت ورکړی شوی وي، د هغه شافع وينا د پاک الله خوښه وي، او خورا ښې خبرې يې ويلي وي، او د داسې سړي سپارش وکړي چې د هغه مشفوع خبره ﴿لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ﴾ د پاک الله په نزد خوښه او پسنده شوي وي، د کفّارو په حق کې د هيڅا سعي او سپارش له سره په درد نه خوري او نه چليږي.

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا ﴿١١٠﴾

عالم دی الله په هر هغه څه چې په مخکې کې د دوی وي (له اخروي امورو)، او هر هغه څيز چې پسې شا د دوی دی (د دنيوي امورو)، او نه به شي احاطه کولی دوی په (ذات او په معلوماتو) د دغه (الله) له جهته د علم.

تفسير: يعنې د الله تعالی علم پر ټولو محيط دی، ليکن د بندګانو علم پر الله تعالی يا د الله تعالی پر معلوماتو محيط او چاپير نه دی، نو ځکه همده ته پخپل محيط علم معلوم دي چې چاته د چا د شفاعت لپاره ښايي موقع ورکړه شي.

وَعَنَتِ الْوُجُوهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّومِ ۖ

او ذليل به شي مخونه لپاره د تل ژوندي قائم تدبير والا د عالَمو ته.

تفسير: يعنې په دغه ورځ کې به د هغو لويو لويو سرکښو متکبرانو سرونه هم په ښکاره ډول سره د دغه حي او قيّوم الله په دربار کې د ډېرو ذليلو او سپکو بنديانو په شان ښکته او پټ کيږي، چې هغوی پخوا له دې نه له سره د الله تعالی په مقابل کې خپل سرونه نه وو ټيټ کړي، په دغه وخت کې به په ډېرې عاجزۍ سره خپلې غاړې ږدي.

وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا ﴿١١١﴾

او په تحقيق خراب نااميده شو هر هغه څوک چې پورته يې کړ بار د ظلم.

تفسير: يعنې د ظالمانو له حاله بيخي پوښتنې مه کوه چې څنګه خراب به وي !، د ظلم په لفظ کې شرک او نور معاصي هم داخل دي، لکه چې د لقمان د سورت د (۲) رکوع (۱۳) آيت (۲۱) جزء کې راغلي دي: ﴿إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾ او د (۴) جزء د آل عمران سورت په (۱۳۵) آيت (۱۴) رکوع کې لولو: ﴿وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ﴾ ـ د هر يوه ظالم خرابي به د ده ظلم له درجې سره موافقه وي.

وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا وَلَا هَضْمًا ﴿١١٢﴾

او هر څوک چې وکړي له ښو (عملونو)، حال دا چې وي دی مؤمن؛ پس نه به ويريږي (دی په آخرت کې) له ظلم، بې انصافی او نه له نقصان.

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَٰهُ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا وَصَرَّفْنَا فِيهِ مِنَ ٱلْوَعِيدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ أَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴿١١٣﴾

او همداسې (لکه چې قصه مو وکړه د انبياوو او پخواني امتونو او د قيامت؛) نازل کړی دی مونږ دغه کتاب قرآن په عربي (ژبه)، او بيا بيا مو راوړي دي مونږ په دې قرآن کې له آيتونو د وعيد لپاره د دې چې دوی پرهېز وکړي، يا پيدا کړي دغه (قرآن) دوی ته ذکر (پند او ترې عبرت واخلي).

تفسير: يعنې لکه چې دلته د محشر احوال او د هغه د نېکو او بدو نتائج صاف صاف اورولی شوي دي؛ همداسې مونږ پوره قرآن په صافې عربي ژبې سره نازل کړی دی، څو هغه خلق چې د ده رومبنې مخاطبان دي د هغه له لوستلو له الله تعالى څخه وويرېږي، او د تقوی لار غوره کړي، او سمدلاسه داسې ونشي؛ نو اقلاً د دوی په زړونو کې د عاقبت او انجام څه فکر، غور او اندېښنه خو پيدا شي، ممکن دی چې همدغه غور او فکر ورو ورو ترقي او تزييد وموميږي، او دوی د هدايت په لاره راولي، او د دوی په وسيلو نورو ته هدايت ور په برخه شي.

فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ ۗ وَلَا تَعْجَلْ بِٱلْقُرْءَانِ مِن قَبْلِ أَن يُقْضَىٰٓ إِلَيْكَ وَحْيُهُۥ ۖ وَقُل رَّبِّ زِدْنِى عِلْمًا ﴿١١٤﴾

نو لوی اوچت دی الله (په ذات او صفاتو خپلو کې له ټولو عيبونو او نقصانونو) چې پادشاه دی، حق دی، او تلوار مه کوه ته (ای محمده !) په (لوستلو د) قرآن پخوا له هغه چې پوره کړه شي تاته وحي د ده، او ووايه (ای محمده !): ای ربه ځما ! زيات کړې ما له جهته د علمه !.

تفسير: يعنې هر کله چې پاک قرآن داسې مفيد او عجيب څيز دی؛ نو هم هغسې چې مونږ هغه په تدريج ورو ورو پر تا نازلوو، ته هم د هغه په اخيستلو کې له جبرئيل عليه السلام څخه تلوار او جلتي مه کوه ! څه مهال چې پرښته وحي در اوروي؛ ته يې په عجلت له هغې سره مه لوله ! ځکه چې مونږ د دغې خبرې عهد او پيمان درسره کړی دی، چې نه به پرېږدو عظيم الشأن قرآن چې د تا له سينې څخه ووځي، نو ته ولې په دغه فکر او اندېښنه کې ځان ربړوې (تکليف ورکوې)؟؛ نه چې د پاک قرآن کوم توری له ما څخه هېر شي، بلکه د دغه فکر په ځای داسې دعاء وکړه چې ای الله تعالى ! د قرآن لا زياته پوهه او له حده زيات علوم او معارف راته عطاء کړه !.

وَلَقَدْ عَهِدْنَآ إِلَىٰٓ ءَادَمَ مِن قَبْلُ فَنَسِىَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُۥ عَزْمًا ﴿١١٥﴾

او خامخا په تحقيق حکم کړی وو مونږ آدم ته پخوا له دې نه، پس هېر يې کړ (هغه حکم)، او مو نه موند ده ته استقامت (صبر له منهيّ عنه) څخه.

تفسير: هغه دا چې دانه يې خوړلې وه، او د مخه حکم يې هېر کړی وو، يعنې قائم پاتې نه شو، وروسته له دې د دغې قصې لږ تفصيل راځي.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ ۖ أَبَىٰ ﴿١١٦﴾ فَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ إِنَّ هَٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ ٱلْجَنَّةِ فَتَشْقَىٰٓ ﴿١١٧﴾

او ياد کړه هغه وخت چې وويل مونږ پرښتو ته چې: سجده وکړئ (تعظيمًا) آدم ته، پس سجده وکړه (ټولو) مګر (سجده ونه کړه) ابليس؛ چې منع يې راوړه، پس وويل مونږ: ای آدمه ! بېشکه دا (ابليس) دښمن ستا دی او (دښمن) د ښځې ستا دی، پس خبردار ! ودې نه باسي خامخا تاسې له جنته (په سبب د وسوسې او فرېب) پس په مشقّت کې به پرېوځئ.

تفسير: ظاهر دی چې د جنت آرامي او هوسايي (خوشالي) په بل کوم ځای کې ميسّر کېدی نشي، او پرته له جنته پر هر ځای کې د خوړلو او څښلو، اغوستلو او نورو ضروریاتو تدابیرو ته خامخا انسان ربړ ګالي، او مشقّت پر ځان اخلي.

إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ ﴿١١٨﴾ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا فِيهَا وَلَا تَضْحَىٰ ﴿١١٩﴾

بېشکه مقرر دی تاته چې نه به وږی کېږې په دې (جنّت) کې، او نه به بربنډ کېږې. او بېشکه ته به نه تږی کېږې په دغه جنت کې، او نه به دې ګرمي کیږي.

تفسير: د انساني له مهمو ضروریاتو څخه خوړل، څښل، اغوستل او د هستوګنې داسې ځای دی چې سړی په کې له لمر، باران، باد او نورو اضرارو څخه مأمون او مصئون وي، په جنّت کې داسې تکالیف له سره نشته، او په جنّت کې له هر حیث او هر جهت څخه آرامي، راحت، طمأنیت، امنیت، سکون او نور ګرد په زړه پورې وسائل او وسائط شته، دلته يې د راحت ذکر ونه فرمایه، یوائې يې د تکالیفو له نفي کولو څخه ښایي داسې تنبیه او ایقاظ مقصود وي، چې د جنّت د وتلو څخه وروسته تاسې له دغو ګردو شیانو سره مخامخ کېدونکي او د دغو ګردو ربړو ګالونکي (تکلیفونو برداشت کوونکي) یئ !.

فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَانُ قَالَ يَا آدَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَىٰ شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلَىٰ ﴿١٢٠﴾

پس وسوسه واچوله دغه (آدم) ته شیطان، (داسې چې ورته) ويې ویل: ای آدمه ! آیا وښیم تاته ونه دتل ژوندي پاتې کېدلو، او پاچاهي چې نه زائلیږي (او تل پاتې کیږي).

تفسير: يعنې داسې ونه دروښیم چې د هغې د مېوې له خوړلو څخه مو ابدي ژوندون په برخه شي، او له سره مړه نشئ، او بې زواله پاچاهي به مو په برخه شي.

فَأَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ الْجَنَّةِ ۚ

پس وخوړل دوی دواړو له دغې ونې، پس ښکاره شول دوی ته غلیظه عورات د دوی، او شروع وکړه دواړو چې نښلولې، پورې کولې دواړو پر ځان پورې له پانو د (ونې)، د جنت (لپاره د ستر).

تفسير: دغه ګرده قصه په «الأعراف» او نورو سورتونو کې مفصّله تېره شوې ده.

وَعَصَىٰ آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَىٰ ﴿١٢١﴾ ثُمَّ اجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدَىٰ ﴿١٢٢﴾

او نافرماني وکړه آدم (له حکم) د رب خپل (په سبب د هېرولو د حکم د الله)؛ پس چپ شو (له مطلوبه د خلوده). بیا غوره کړ دغه (آدم) لره رب د ده، پس رجوع وکړه (الله) په آدم په قبول د توبې سره، او هدایت يې ورته وکړ.

تفسير: يعنې کله چې د الله تعالی د حکم په امتثال کې قصور وشو، او سم له خپله شانه سره د عزم او استقامت پر لاره ثابت قدم نشو پاتې، نو همدغه يې په غوایت او عصیان سره تغلیظاً تعبیر وفرمایه، يعنې د شیطان تسلّط يې پرې ونبود، بلکه فوراً يې ورته د توبې توفیق وبانبه، او سره له زیاتې مهربانی د ده په طرف متوجه شو، او د خپلې خوښۍ پر لاره يې قائم کړ.

قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ

وفرمايل (الله) چې کوز شئ دواړه له دغه جنته ټول، ځينې د تاسې د ځينو نورو دښمنان يئ !.

تفسير: که دغه خطاب يواځې د آدم او حواء عليهما السلام په لوري وي، مراد به يې داسې وي چې: د دوی اولاده به په خپلو منځونو کې سره دښمنان وي، لکه چې په رفاقت سره يې ګناه کړې وه، د هم هغه رفاقت په بدل دا ور په برخه شو، چې اولاده يې پخپل منځ کې سره دښمنان شول، او که دغه خطاب د ابليس او آدم عليه السلام په لوري وي، نو مقصد به يې داسې وي چې: د دواړو په ذرياتو کې به دغه دښمني برابره قائمه پاتې کيږي، شياطين به تل د بنيادمانو د ضرر رسولو په فکر کې وي.

فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ ﴿١٢٣﴾

پس که راغی تاسې ته له طرفه ځما هدايت (چې کتابونه او رسولان دي)، پس هر چا چې متابعت وکړ د هدايت ځما؛ پس نه به ګمراه کيږي (په دنيا کې)، او نه به بدبخت شي (په عُقبى کې).

تفسير: يعنې نه د جنّت له لارې څخه ګمراه او بې لارې کيږي، او نه له هغه څخه محروميږي، او تکليف او ربړ (زحمت) به وګالي، له هغه اصلي وطنه چې راغلی دی؛ بيا به ببرته بې اندېښنې همالته ور ورسيږي.

وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا

او هر چا چې مخ وګرځاوه له ذکره (پنده) ځما؛ پس بېشکه ده ته دی معاش (ژوند) تنګ (په دنيا يا سخت عذاب په قبر کې).

تفسير: يعنې هغه انسان چې د الله تعالى له ياده غافل او محض د دغې فاني دنيا ژوندون د خپل مقصود قبله وګڼي او ويې ګرځوي؛ د هغه ګزران به مکدر او تنګ کړ شي، اګر که په سترګو له ده سره ډېر مال او دولت، او د عيش سامان ليده کيږي، مګر د ده زړه د قناعت او توکل د خلاء له وجې تل د دنيا د حرص او ترقی په فکر کې اوسيږي، او د تقليل له اندېښنې څخه تل ناآرامه وي.

نصوص او تجربې په دې باندې شاهدې دي، چې په دغه دنيا کې قلبي سکون او حقيقي اطمينان هيڅا ته بې د الله تعالى له ياده نه حاصليږي: ﴿أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾.

ځينې مفسّرين له ﴿مَعِيشَةً ضَنْكًا﴾ نه د قبر برزخي ژوندون مرادوي، يعنې پخواله قيامته پر ده د سختې تنګی دوره راتلونکې ده، څه مهال چې د قبر ځمکه هم پرې تنګه کړه شي، د ﴿مَعِيشَةً ضَنْكًا﴾ تفسير ځينو صحابه کرامو په عذاب القبر سره هم کړی دی، بلکه (بزّار رحمه الله) په جيّدو اسنادو سره له «أبو هريرة رضي الله عنه نه مرفوعًا روايت کړی دی، په هر حال د ﴿مَعِيشَةً ضَنْكًا﴾ لاندې دغه ګرد صورتونه داخلېدی شي، (والله أعلم).

وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ ﴿١٢٤﴾

او راپورته به کړو مونږ دی (له قبره) په ورځې د قيامت کې ړوند.

تفسير: يعنې په سترګو يې ړندوي، او بيا يې د محشر په لوري بيايي، او په زړه سره به هم ړوند وي، چې د هيڅ حجّت په طرف به لاره نه مومي، دغه د حشر د ابتدايي مرحلې ذکر دی، وروسته به يې سترګې خلاصيږي، څو د دوزخ او نورو اخروي اهوالو معاينه وکړي.

قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيٓ أَعْمَىٰ وَقَدْ كُنتُ بَصِيرًا ﴿١٢٥﴾

وبه وايي (دغه ړوند کافر) ای ربه ځما ! ولې دې پاڅولم (راوستلم) زه ړوند حال دا چې په تحقیق زه وم بینا (په دنیا کې).

تفسیر: یعنې هغه کافران چې په دنیا کې د ظاهري سترګو خاوندان او په آخرت کې ړومبی ړانده محشور کیږي؛ په تعجّب او حیرت سره به سوال وکړي (آخر له مونږه څه ګناه او قصور صادر شوی دی، چې د هغه په بدل ځمونږ سترګې راڅخه اخیستی شوي دي؟).

نو وبه فرمایي پاک الله د عذاب د پرښتې په ژبه د دوی په ځواب کې:

قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيتَهَا ۖ وَكَذَٰلِكَ الْيَوْمَ تُنسَىٰ ﴿١٢٦﴾

وفرمایل (الله) همداسې وو (لکه چې ته یې وایي) خو راغلي وو تاته آیتونه ځمونږ، پس هېر کړل تا هغه؛ او په مثل (د هغو هېرولو ستا) نن ورځ هېر به کړ شې ته هم (پرېښود به شې ته په عذاب کې).

تفسیر: یعنې په دنیا کې سره له دې چې ځمونږ د قدرت دلائل او نښې مو لیدې او اورېدې؛ خو نه مو پرې یقین او نه مو پرې عمل وکړ، او داسې مو ځان ترې ببخبره او ناګاره کړ، چې ګواکې د هیڅ خبره مو نه اورېدلې او نه لیدلې ده؟ نو نن د هغه په بدل تاسې همداسې هېرولی شئ، لکه چې هلته مو له ځانونو خپلو څخه ړانده جوړ کړي وو، نو اوس دلته د هغه د مناسبې سزا موندلو او له خپلو ړانده پاڅېدلو او ړاندې محشور کېدلو نه ولې حیرت اوتعجّب کوئ؟.

وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي مَنْ أَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِن بِآيَاتِ رَبِّهِ ۚ وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبْقَىٰ ﴿١٢٧﴾

او په مثل د همدې جزاء ورکولو (ځمونږ دغو کفارو ته)؛ جزاء ورکوو مونږ هغه ته چې له حده ووت او ایمان یې رانه وړ په آیتونو د رب خپل، او خامخا عذاب د آخرت ډېر سخت دی، او ډېر باقي پاتې کېدونکی دی.

أَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ الْقُرُونِ يَمْشُونَ فِي مَسَاكِنِهِمْ ۗ

آیا پس نه دي ښکاره شوي (دغو کفارو ته) چې ډېر هلاک کړي دي مونږ پخوا له دوی نه له اهل د زمانو چې ځي تیریږي دوی په (تشو) کلیو ځایونو د دوی کې.

تفسیر: یعنې که پر هغه سزا چې دوی ته په آخرت کې ورکوله کیږي متیقّن نه وي؛ نو آیا د تاریخي واقعاتو ځنې هم څه پند او عبرت نه اخلي، د همدغو مکیّانو په شاوخوا کې څومره اقوام د خپل کفر او طغیان لامله تباه او برباد شوي دي، چې د هغوی قصې او افسانې د خلقو پر ژبو لا تر اوسه جاري دي، او د هغوی له منځه د ځینو پر کنډوالو او خرابو کلیو او ویجاړو ځایونو د شام او د نورو ملکونو د مسافرانو نظر هم لویږي، او دوی پرې تېریږي، چې د هغو له لیدلو څخه ښایي د هغو اقوامو حالات مو در په یاد شي، چې څرنګه هغوی په داسې حال کې چې پر دغو ځایونو کې ګرځېدل او لاندې باندې کېدل؛ هلاک او تباه کړل شول.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّأُولِي النُّهَىٰ ﴿١٢٨﴾ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَأَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿١٢٩﴾

بېشكه په دغه (اهلاك د منكرينو) كې خامخا ډېر دلائل (د عبرت دي) خاوندانو د عقل ته. او كه چېرې نه وى هغه وينا چې پخوا ويلې شوې ده (له طرفه) د رب ستا (په تأخير د عذا ب سره)؛ نو خامخا وو به دغه (هلاك د دوى) لازم (له دوى سره)، او كه نه وى اجل (نېټه) معلومه (د عمر د دوى)؛.

تفسير: يعنې د الله تعالى رحمت پر غضب سابق دى، نو ځكه مجرم ته تر ډېر وخت پورې د اصلاح موقع وركوي، او د پوره حجّت له اتمام څخه يې ماسوا نه هلاكوي، بلكه د دې امّت په متعلّق يې دا هم فرمايلي دي: ﴿وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ﴾ الآية ـ او له خپلې خاصې مهربانى عمومي مستأصل عذاب يې له دغه أمّت څخه لرې كړى دى، دغه خبره ده چې ستا د رب له طرفه صادره شوې ده، كه داسې نه وى، او د هر مجرم قوم د عذاب لپاره يو خاص وخت مقرر نه وى؛ نو په لازمي ډول به دوى په عذاب اخته كېدل، ځكه چې د دوى د كفر او شرارت مقتضى همداسې ده چې بنايي على الفور هلاك شي، او كله چې وخت راشي؛ نو په دنيا كې به هم د هغه زورور جنګ نمونه وګورې، لكه چې د «بدر» په غزوه كې دوى له مسلمانانو سره تصادم وكړ، او د هغه يوه وړوكې نمونه يې وليده.

فَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ

پس صبر كوه (اى محمده !) پر هغو خبرو چې دوى يې وايي.

تفسير: يعنې عذاب په خپل مقرر وخت كې خامخا واقع كېدونكى دى، دوى د دغه تأخير او امهال د ليدلو څخه هومره چتې خبرې چې كوي ودې كړي، تاسې سمدلاسه دغه ګردې خبرې په ډېر صبر او استقامت سره واورئ ! او په ډېر صبر او سكون د وروستنى نتيجې په انتظار كې اوسئ، د كفر پر دغو كلماتو له حده زيات مضطرب كېدلو ته هيڅ ضرورت نشته، (دغه آيت منسوخ دى په آيت سيف سره).

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا

او تسبيح وايه سره له حمد د رب خپل پخوا له ختلو د لمر (د سحر لمونځ)، او پخوا له پرېوتلو د دغه لمر، (د ظهر او عصر لمونځ).

تفسير: دلته د فجر او عصر لمونځونو ته اشاره وشوه، يعنې د احمقانو او شريرانو خبرو ته له سره غوږ مه ږدئ ! او مه چرت پرې خرابوئ ! په ډېر صبر او سكون سره د خپل الله تعالى په عبادت كې مشغول او لګيا اوسئ ! ځكه چې د الله تعالى مدد له دوو شيانو حاصليږي، چې هغه صبر او لمونځ دى، كما قال الله تعالى: ﴿وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ﴾ الآية.

وَمِنْ آنَاءِ اللَّيْلِ فَسَبِّحْ

او په ځينو اوقاتو كې له ساعتونو د شپې پس تسبيح وايه (لمونځ اداء كړه د مغرب او عشاء).

تفسير: په دغه كې مغرب او عشاء بلكه د ځينو تفاسيرو له روايته سره سم د تهجّد لمونځ هم داخل دي.

وَأَطْرَافَ النَّهَارِ

او په دواړو څنګو (اطرافو) د ورځې كې (پر لمانځه ډېره توجّه ولره، يا په دغو اوقاتو كې تسبيح سره له حمده وايه).

تفسير: دغه د ظهر لمونځ شو، ځکه چې په دغه وخت کې د ورځې د اول نصف او د آخر نصف سره يو ځای کيږي، بلکه په صحاح او قاموس او نورو کې تصريح شوې ده، چې «طرف» «طائفة من الشيء»، «طرف د کوم شي حصې ته وايي»، او د خاص حد او د ځنډې په معنی نه دی، په دغه صورت نهار جنس منلی کيږي، او د هرې ورځې هغه يوه خاصه برخه ترې مراد کېدی شي، چې هلته ورځ نيمايي کيږي.

لَعَلَّكَ تَرْضَىٰ ﴿١٣١﴾

ښايي چې ته به راضي شي (له الله په اجر).

تفسير: يعنې که داسې د عمل طرز ولرې؛ نو تل به په دنيا او آخرت کې خوښ او راضي اوسېږې، د دغه ډېر لوی اجر به در رسيږي، او له امّت سره به دې مرسته (مدد) وشي په دنيا کې، او مغفرت به وي په آخرت کې ستا په شفاعت چې د هغه له ليدلو څخه به ته خوښېږې.

وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ ۚ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴿١٣١﴾

او مه اوږدوه (نظر د) سترګې خپلې (يعنې مه يې اړوه) هغه څيز ته چې نفع ورکړې ده مونږ په هغه څيز سره چې قسماقسم دي دغو (کفّارو) ته، ښايست د ژوندانه لږ خسيس لپاره د دې چې وازمايو دوی په دې کې، او رزق روزي د رب د تا (چې تاته يې درکړې له نبوّته علمه بهتر ډېر غوره) خير او اوږده ده (له دنيوي نعماوو څخه).

تفسير: شيخ الهند رحمه الله د دې آيت ترجمه داسې کړې ده: «او مه اړوه دواړه سترګې خپلې هغه څيز ته چې نفع ورکړې ده مونږ په هغه سره قسماقسم ته له خلقو ...»، يعنې په دنيا کې قسم قسم کافرانو مثلاً يهودانو، نصرانيانو، مشرکانو، مجوسيانو او نورو ته مونږ د عيش او تنعم کوم سامان چې ورکړی دی؛ د هغو په طرف خپلې سترګې مه غړوئ، او له سره مه ورته ګورئ !، دغه تش د څو ورځو عشرت او پسرلی دی، چې مونږ د هغه په وسيله د هغوی امتحان اخلو، چې کوم يو احسان منونکی دی؟ او کوم يو غاړه غړوونکی دی؟ هغه عظيم الشأن دولت چې الله تعالی تاته (ای محمده صلی الله عليه وسلم) مقدّر کړی دی؛ مثلا عظيم الشأن قرآن، د رسالت منصب، عظيمه فتوحات، رفع الذکر، د نامه لوړېدل، او د آخرت اعلی مراتب؛ د هغوی په مقابل کې دغه فاني او حقير سامان څه حقيقت لري؟ ستاسې په برخه کوم دولت چې راغلی دی، هغه له دغو دولتونو څخه ډېر ښه او بهتر دی، او في نفسه يا د خپل اثر په اعتبار تل باقي پاتې کېدونکی دی.

وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ

او امر کوه په اهل بيت (يا اهل دين) خپل په کولو د لمانځه، او ته هم کلک پرې ولاړ اوسه.

تفسير: يعنې خپلو متعلقينو او اتباعو ته د لمانځه تأکيد وکړئ ! په حديث کې راغلي دي: «کله چې وړوکی مو اوه کلن شي؛ پر دوی لمونځونه کوئ ! او څه مهال چې لس کلن شي؛ په وهلو سره پرې لمونځ کوئ».

لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ ﴿١٣٢﴾

نه غواړو مونږ له تا څخه روزي (نه ستا او نه د اهل ستا، بلکه) مونږ رزق روزي درکوو تاته، او عاقبت ښه خاتمه خاوندانو د پرهېزګاری ته ده.

تفسير: په دنيا کې مالکان پر خپلو مريو باندې روزي ګټي، دغه مالک الملک يواځې بندګي غواړي، او خپلو مريو ته په خپله روزي ورکوي، الغرض ځمونږ له لمانځه څخه هغه ارفع او اقدس ذات ته هيڅ يوه فائده نه رسيږي، بلکه د لمانځه څخه فائده هم مونږ ته عائده ده، او د لمانځه له برکته په ښه شان سره روزي رارسيږي: ﴿وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا ۝ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾ (۲۸ جزء د الطلاق سورت (۲-۳) آيتونه، (۱) رکوع).

که د فرض لمانځه او د معاش په کسب کې څه تعارض واقع شي؛ الله تعالى داسې اجازه نه درکوي چې د معاش په مقابل کې لمونځ ترک کړې !، په هر حال ښايي چې هرومرو لمونځ ادا ء کړ شي، روزي رسوونکی هم هغه الله دی چې د هغه په حکم سره لمونځ کوو.

وَقَالُوا لَوْلَا يَأْتِينَا بِآيَةٍ مِنْ رَبِّهِ

او وايي (کفّار) ولې نه راوړي محمد صلى الله عليه وسلم مونږ ته يوه معجزه (له طرفه) د رب خپل چې (مونږ يې غواړو په تصديق د نبوّت خپل).

تفسير: يعنې کومه داسې يوه ښکاره معجزه او نښه ولې نه راښيي چې د هغې په ليدلو سره مونږ ته بيخي د انکار او تردّد موقع نشي پاتې، د دغومره ور ځينو ويرولو او تخويفاتو څخه څه ګټه حاصليږي؟.

أَوَلَمْ تَأْتِهِمْ بَيِّنَةُ مَا فِي الصُّحُفِ الْأُولَىٰ ۝

آيا نه دی راغلی دوی ته مصدّق دليل برهان د هغه شي چې په کتابونو پخوانيو کې وو.

تفسير: يعنې دغه خلق له ضده او عناده وايي چې کومه معجزه او نښه دې ولې رانه وړه؟ آيا له سلهاوو نورو معجزو او نښو څخه برسېره او له ګردو څخه لويه معجزه او نښه دغه عظيم الشأن قرآن هغوی ته نه دی رسېدلی، چې د پخوانيو کتابونو د ضروريه وو مضامينو محافظ او د ده د صداقت لپاره د حجّت او شهادت په ډول دی، او د هغه اعجاز له لمر څخه هم زيات ظاهر او ښکاره دی، لکه چې د (۲۱ جزء د العنکبوت سورت په (۵۰ - ۵۱) آيتونو (۵) رکوع) کې داسې يو آيت لولو: ﴿وَقَالُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَاتٌ مِنْ رَبِّهِ قُلْ إِنَّمَا الْآيَاتُ عِنْدَ اللَّهِ وَإِنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُبِينٌ ۝ أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ۝﴾.

وَلَوْ أَنَّا أَهْلَكْنَاهُمْ بِعَذَابٍ مِنْ قَبْلِهِ لَقَالُوا رَبَّنَا لَوْلَا أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ آيَاتِكَ مِنْ قَبْلِ أَنْ نَذِلَّ وَنَخْزَىٰ ۝ قُلْ كُلٌّ مُتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوا ۖ فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ أَصْحَابُ الصِّرَاطِ السَّوِيِّ وَمَنِ اهْتَدَىٰ ۝

او که چېرې مونږ هلاک کړي وی دوی په عذاب سره پخوا له دغه (قرآنه يا له محمده)؛ نو خامخا به ويلي وی دوی: ای ربه ځمونږه ! ولې ونه لېږه تا مونږ ته يو رسول، نو چې متابعت کړی وی مونږ د آيتونو ستا پخوا له هغه چې ذليل يا شرمنده شوي وی مونږ (په دنيا يا په آخرت کې). ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې هر يو (له تاسې او له مونږ عاقبت د امر ته) انتظار کوونکی دی پس تاسې هم انتظار کوئ، پس ژر پوه به شئ تاسې چې څوک دي ياران د لارې سمې صافې؟ او کوم يو دی چې په سمه صافه لاره روان دی؟ (مونږ که تاسې).

تفسير: يعنې د داسې عظيم الشأن نښان له ليدلو څخه وروسته وايي چې: ولې دې کومه معجزه او نښه رانه وړه؟ او فرض يې کړئ ! که مونږ نه وی ورښوولی ـ يعنې قرآن مو نه وی نازل کړی ـ او پخوا د کتاب له انزاله او د رسول له ارساله

دوی مو د کفر او شرک په سزا کې د دوزخ په کنده کې غورځولی؛ نو دوی به شورماشور ننبلاوه، او داسې به یې ویل: ای ربه ! د سزا ورکولو څخه پخوا ښایي ځمونږ لپاره کوم کتاب او پوهوونکی دې رالېږلی وی، چې مونږ یې په ذلت او رسوایۍ باندې له اخته کېدو څخه لا پخوا خبر کړي وی؛ نو تا به لیده چې مونږ ستاسې د احکامو په تعمیل کې څومره زیار (محنت) ایسته؟.

تمّت سورة طه بتوفیقه وعونه، ولله الحمد.

سُورَةُ الأَنبِيَاءِ

«د الأنبياء سورت مکّي دی، (۷) رکوع (۱۱۲) آيتونه لري، په تلاوت کې (۲۱)، او په نزول کې (۷۳) سورت دی، د ابراهيم عليه السلام له سورت څخه وروسته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُّعْرِضُونَ ﴿١﴾

نژدې شو خلقو ته (وخت د) حساب (او جزا) د دوی، حال دا چې دوی په غفلت کې دي (له دې حساب او جزا خپلې) مخ ګرځوونکي دي (له ايمان راوړلو څخه په دغه سره).

تفسير: يعنې د حساب او کتاب او مجازاتو ساعت رارسېدونکی دی، ليکن دغه مشرکين او نور خلق په سخت غفلت او جهالت کې پراته دي، او د قيامت د ځواب ورکولو لپاره هيڅ يو تياری نه نيسي، او کله چې دوی ته د الله تعالی آيتونه اورول کيږي، او نصيحت ورته وشي چې د غفلت له خوبه راويښ او راپورته شئ؛ نو په ډېرې بې پروايی او بې اعتنايی سره يې اوري، او هيڅ اهميت ورته نه ورکوي، او داسې يو وضعيت اختياروي، چې ګواکې دوی له سره له الله تعالی سره مخامخ کېدونکي نه دي، او نه څه حساب او کتاب ورسره کيږي.

مَا يَأْتِيهِم مِّن ذِكْرٍ مِّن رَّبِّهِم مُّحْدَثٍ إِلَّا اسْتَمَعُوهُ وَهُمْ يَلْعَبُونَ ﴿٢﴾ لَاهِيَةً قُلُوبُهُمْ

او نه راځي دوی ته هيڅ نصيحت له (طرفه د) رب د دوی نوی؛ مګر خو اوري دوی هغه (له خپل رسول څخه) حال دا چې دوی لوبې پرې کوي، په دې حال کې چې بوخت (مشغول) وي زړونه د دوی (په دنيوي چارو، او غافل وي لـه ضروري کارونو څخه).

تفسير: يعنې د قرآن عظيم ډېر ارزښتناک (قيمتي) نصيحتونه دوی ته د لوبو او نندارو حيثيت لري، او همغسې يې اوري، که دوی په اخلاص سره په کې فکر او غور او په تعميل کې يې هڅه (کوښښ) کولی؛ نو د دوی دين او دنيا به دواړه ښه او سم شوي وی، ليکن د دې لامله چې د دوی زړونه بيخي له دې پلوه غافل او له يوه مخه په لوبو او نندارو او تماشو کې لګيا او بوخت دي؛ نو ځکه داسې غور او فکر کولو ته له سره وخت نه لري.

وَأَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِينَ ظَلَمُوا هَلْ هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ أَفَتَأْتُونَ السِّحْرَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ﴿٣﴾

او ښه پټوي راز (خپل) هغه کسان چې ظلم يې کړی (په ځانونو خپلو په شرک سره، او وايي کفّار:) نه دی دا (محمد) مګر خو يو انسان په شان ستاسې، آيا پس راځئ تاسې هغه جادو ته حال دا چې تاسې ګورئ (چې دا جادو دی).

تفسير: کله چې دوی له ډېر نصيحت اورېدلو څخه تنګ شول؛ نو څو بې انصافان سره راټول شول، او يوه پټه جرګه يې سره جوړه کړه، او د قرآن او رسول الله په متعلق يې په داسې خبرو خوله بېرته کړه چې دغه رسول خو ځمونږ په شان يو انسان دی، نه پرښته ده او ته له مونږ ځنې د کوم زيات ظاهري امتياز خاوند دی، البته دی په جادو باندې پوهيږي،

دغه کلام چې دی یې لولي او مونږ ته یې اوروي؛ هرومرو د سحر او کوډو کلام دی، نو بیا په تاسې باندې څه ټکه (تندر) لوېدلې ده چې په خپلو سترګو یې ګورئ او بیا د هغه جادو په لومو (دام) کې ځان نښلوئ، لازمه ده چې هغه ته له سره مه نژدې کېږئ.

قُلْ رَبِّي يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۖ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٤﴾

وویل (رسول دوی ته) رب مې عالم دی په وینا (د هر هغه چا چې وي) په اسمان کې او په ځمکه کې، او هم دی ښه اوربدونکی (د ټولو اقوالو) ښه عالم دی (په ټولو احوالو).

تفسیر: رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: که تاسې هر څومره پټې او مخفي مشورې وکړئ؛ پاک الله له هغو ټولو څخه عالم او خبر دی، چې د اسمانونو او ځمکو په هرو پټو خبرو او احوالو هم ښه خبر او علیم دی، ستاسې په دغو مخفي او پټو خبرو او جرګو به څرنګه علم ونه لري؟ او ستاسې دغه پلمې (تدبیرونه) او حیلې له هغه څخه څرنګه پټې پاتې کېدی شي؟.

بَلْ قَالُوا أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ بَلِ افْتَرَاهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ فَلْيَأْتِنَا بِآيَةٍ كَمَا أُرْسِلَ الْأَوَّلُونَ ﴿٥﴾

بلکه (دغه کفّار) وایي (چې دغه قرآن) ګډوډ خوبونه دي، بلکه له خپل ځانه یې جوړ کړي دي، بلکه دی شاعر دی، پس باید راوړي مونږ ته کومه لویه معجزه لکه هغه (معجزه) چې لېږلي شوي وو لومړني (انبیاء په هغو سره).

تفسیر: د پاک قرآن په اوربدلو سره به د ډېر ضد او عناد له کبله داسې بدحواسه کېدل، چې له سره به په یوه فکر او رایه باندې قائم نه پاتې کېدل، کله به یې ورته جادو (کوډې) ویل، کله به یې ګډوډ پرېشانه خوب باله، کله به یې داسې ویل چې: دا خبرې دی له ځانه جوړوي او مونږ ته یې وړاندې کوي، او بیا پرې د قرآن نوم ږدي، نه یواځې همدا به یې ویل؛ بلکه داسې وینا به یې هم کوله چې: محمد صلی الله علیه وسلم ډېر ښه او عمده شاعر هم دی، او د شعراوو په شان د لوړو (اوچتو) تخیّلاتو له لارې ډېر ښه مؤثر مضامین او مسجع عبارات جوړوي، او خلقو ته یې وړاندې کوي، که په واقع کې داسې نه وي؛ نو دی دې هم د نورو پیغمبرانو په شان کومه ښکاره لویه معجزه راوښیي.

دغه وینا ګاني هم محض د عناد اوتش د ربړولو (تکلیف ورکولو) لامله وې، ځکه چې اول خو د مکې معظمې دغه جاهل مشرکان د پخوانیو انبیاوو له معجزو څخه هیڅ خبر نه وو، دویم دا چې ځمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېرې داسې ښکاره معجزې او نښې یې هم لیدلې وې؛ چې د پخوانیو انبیاوو له معجزو او نښو څخه په هیڅ یو صورت کمې نه وې، او له ټولو څخه ډېره لویه او غټه معجزه او نښه همدغه د عظیم الشأن قرآن معجزه ده، دوی په خپلو زړونو کې ښه پوهېدل چې دا نه جادو او نه مهمل عبارات او نه چتې (بېکاره) خوب او نه شعر دی، نو هر کله چې به یې هیڅ یوې خبرې له دغې معجزې سره سمون نه خوړ؛ نو هغه به یې پرېښوده او بله خبره به یې ورته جوړوله: ﴿انْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا لَكَ الْأَمْثَالَ فَضَلُّوا فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا﴾ د الفرقان اوله رکوع.

مَا آمَنَتْ قَبْلَهُمْ مِنْ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا ۖ أَفَهُمْ يُؤْمِنُونَ ﴿٦﴾

(وویل الله) نه وو راوړی ایمان (په معجزو) پخوا له دوی نه هیڅ (اهل د) کلي چې هلاک کړی دی مونږ اهل د هغه (په سبب د تکذیب د دوی)، آیا پس دغه کفّار به ایمان راوړي؟ (بلکه نه یې راوړي).

تفسير: يعني پخوانيو قومونو ته فرمايشي معجزې او نښې ورښوولې شوې وې، مګر دوی د هغو په ليدلو هم تابع نشول، او حق يې ونه مانه، بالآخر له سنت الله سره سم هلاک کړی شو، که د مکې معظمې د دې مشرکانو دغه غوښتنې هم پوره کړی شي؛ ښکاره ده چې دوی يې هم منونکي نه دي، هرومرو به د الله تعالى د عام عادت سره موافق سپېره او فنا کړی شي، حال دا چې د هغوی بيخي تباهي او خرابي مقصود نه ده، بلکه د الله تعالى حکمتونه في الجمله د دوی دوام او بقاء غواړي.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۖ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٧

او نه وو لېږلی مونږ پخوا له تا (ای محمده !) مګر خو سړي چې وحي به کوله مونږ دوی ته، پس پوښتنه وکړئ له خاوندانو د ذکره (د کتابيانو له علماوو څخه) که يئ تاسې چې نه پوهېږئ.

تفسير: دا د دوی د هغه قول ځواب دی ﴿هَلۡ هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ﴾، يعنې کوم انبياء چې پخوا راغلي وو، چې د هغو د معجزو په شان له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه هم د معجزې د ښوولو غوښتنه کوئ؛ هغوی هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم په شان انسانان وو، پرښتې نه وې، که له داسې مشهورې او مستفيضې خبرې څخه هم تاسې د خپل جهالت له سببه بې خبره يئ؛ نو له هغو کسانو څخه پوښتنه وکړئ او ځان پرې خبردار کړئ؛ چې هغه ترې ښه خبر دي (لکه د اهل کتابو عالمان).

وَمَا جَعَلۡنَٰهُمۡ جَسَدٗا لَّا يَأۡكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَمَا كَانُواْ خَٰلِدِينَ ٨

او نه وو ګرځولي مونږ (دغه پخواني رسولان) داسې جسدونه چې نه يې خوړ طعام، او نه وو دوی تل پاتې کيدونکي (په دنيا کې، بلکه طعام به يې خوړ، او مړه کېدل به هم).

تفسير: يعنې انساني خصائص په هغو کې موجود وو، او د هغوی بدن د پرښتو په شان نه وو، چې هيڅ کله خواړه ونشي خوړلی، او نه هغوی د الوهيت مرتبه لرله چې له سره مړک او فناء پرې رانشي، او تل تر تله ژوندی پاتې شي.

ثُمَّ صَدَقۡنَٰهُمُ ٱلۡوَعۡدَ فَأَنجَيۡنَٰهُمۡ وَمَن نَّشَآءُ وَأَهۡلَكۡنَا ٱلۡمُسۡرِفِينَ ٩

بيا رښتيا کړه مونږ هغوی سره وعده (د نجات د دوی)؛ پس نجات ورکړ مونږ هغوی ته، او هغو ته چې ځمونږ اراده وه (د نجات د دوی چې مصدّقين دي)، او هلاک کړل مونږ مسرفان (له حده تېرېدونکي د رسولانو مکذّبين).

تفسير: يعنې د هغوی امتياز له نورو بندګانو څخه دا وو چې د الله تعالى له لوري د مخلوق د هدايت او اصلاح لپاره تاکل شوي وو، الله تعالى په دوی وحي نازلوله، او سره له بې سرو سامانۍ به يې د مخالفينو په مقابل کې دوی سره د نصرت او حمايت وعدې کولې، لکه چې پاک الله خپلې دغه وعدې ټولې رښتيا او ښکاره هم کړې، او دغه انبياء يې د خپلو ملګرو سره محفوظ وساتل، او هغه لوی لوی متکبر دښمنان چې هغوی سره به يې مخالفت او ډغرې وهلې؛ تباه او غارت کړل شول، بېشکه محمد صلى الله عليه وسلم هم بشر دی، ليکن د بشر له هغو انواعو څخه دی چې د هغو مرسته او حمايت د ټولې دنيا په مقابل کې کاوه شي، د دوی مخالفينو ته لازم دي چې د خپل انجام فکر او انديښنه وکړي، او د پخوانيو قومونو له مثالونو څخه دې پند او عبرت واخلي، داسې ونه شي چې د آخرت له حساب نه پخوا په همدغې دنيا کې دوی سره حساب او کتاب شروع شي.

لَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ كِتَٰبًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٠﴾

خامخا په تحقيق نازل کړی دی مونږ تاسې ته يو کتاب چې په هغه کې ذکر (پند) ستاسې دی، آيا پس تاسې عقل نه لرئ (چې ايمان پرې راوړئ).

تفسير: يعنې د پاک قرآن په وسيله تاسې ته هر قسم پند او نصيحت درکړی شوی دی، او د ټولو ښو او بدو پای او انجام درښوول شوی دی، که لږ عقل او سد (هوش) هم ولرئ؛ نو زيار او کوښښ به کوئ چې د الله تعالى له عذابه ځان وساتئ، او د پاک قرآن قدر او عظمت په ښه شان سره وپېژنئ، چې په حقيقت کې ستاسې د لويی او شرف لپاره يو لوی سند او قاطع برهان دی، ځکه چې ستاسې د قوم په ژبه او ستاسې د قوم په يوه کامل فرد باندې نازل شوی دی، او په دنيا کې يې تاسې ته دائمي ويار او شهرت دربښلی دی، که تاسې د خپل دغسې محسن قدر نه پېژنئ، او خبرو ته يې غوږ نه کېږدئ؛ نو په دنيا کې به خوار او ذليل شئ، او د آخرت عذاب به ېېل تاسې ته تيار شي.

وَكَمْ قَصَمْنَا مِن قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً وَأَنشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا ءَاخَرِينَ ﴿١١﴾

او ډېر ټوټې ټوټې کړي دي مونږ (په هلاکولو سره) له اهل د کليو چې وو هغوی ظالمان، او پيدا کړل مونږ وروسته له هغو ځخه قومونه نور (د دوی په ځای).

تفسير: يعنې داسې نه ده چې د هغو له ورکېدو ځخه به د الله تعالى ځمکه خرابه او ويجاړه (ورانه) شي، دوی چې ورک شي؛ د دوی په ځای نور خلق پيدا او ودانوي.

فَلَمَّآ أَحَسُّوا۟ بَأْسَنَآ إِذَا هُم مِّنْهَا يَرْكُضُونَ ﴿١٢﴾ لَا تَرْكُضُوا۟ وَٱرْجِعُوٓا۟ إِلَىٰ مَآ أُتْرِفْتُمْ فِيهِ وَمَسَٰكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُونَ ﴿١٣﴾

پس هر کله چې حس به کړ (وبه موند) دوی عذاب ځمونږ؛ ناڅاپه دوی به له دغه عذابه تښتېدل (په ډېره بيړه ـ تلوار). (نو پرښتو به په تمسخر سره ورته ويل:) مه تښتئ او بېرته لاړ شئ هغه ځای ته چې ښه ژوند درکړی شوی وو تاسې ته په هغه کې، او کورونو خپلو ته، ښايي چې له تاسې نه پوښتنه وکړی شي.

تفسير: يعنې کله چې کافران او مشرکان د الله تعالى له عذاب سره مخامخ شول؛ نو ويې غوښتل چې له هغه ځايه وتښتي، او په تښته سره ځان ته نجات حاصل کړي، په دغه وخت کې دوی ته وويل شول چې: چېرې تښتئ؟ ودرېږئ او په همغه لوري بېرته لاړ شئ چې هلته مو عيش او عشرت کاوه، او ډېر زيات د تنعم اسباب مو راجمع کړي وو، ښايي چې هلته څوک له تاسې ځخه پوښتنه وکړي.

يا دا چې تاسې خو داسې لوی سړي وئ، چې په هر ځای کې به ستاسې عزت او احترام کېده، اوس هم هلته لاړ شئ، هيڅ د تښتې ضرورت نشته، څو خلق په خپلو مهمّاتو کې له تاسې سره خبرې اترې او مشورې وکړي، دغه ټولې خبرې د تهکم په توګه ويلې شوي دي.

قَالُوا۟ يَٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿١٤﴾ فَمَا زَالَت تِّلْكَ دَعْوَىٰهُمْ حَتَّىٰ جَعَلْنَٰهُمْ حَصِيدًا خَٰمِدِينَ ﴿١٥﴾

وبه وايي: ای هلاکته ځمونږ (را حاضر شه ! دغه دې وخت دی) بېشکه مونږ وو ظالمان. پس تل به وي دغه بلنه د دوی (هلاکت لره)، تر هغو پورې چې وبه ګرځول مونږ دوی رېبل شوي، مړه يخ پراته.

تفسير: يعنې کله چې عذاب يې په خپلو سترګو ولید؛ نو هلته يې په خپلو جرمونو اعتراف وکړ، او درګرده به يې داسې چغې وهلې؛ چې بېشکه مونږ ظالمان او مجرمان يو، ليکن اوس د دوی دغه افسوس او حسرت څه په کار راځي؟.

دا د توبې د قبول وخت نه وو، د دې وخت اعتراف او ندامت بېکاره وو، او بالآخر په دې ډول سره ختم کړی شو، لکه چې شين کښت (فصل) يو دم ورېبلی شي، او درمند شي، يا په اور کې د سوځېدلو لرګيو د ايري د ډيري په شان پاتې کيږي (العياذ بالله).

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ﴿١٦﴾

او نه دي پيدا کړی مونږ اسمان او ځمکه او نه هر هغه څه چې په منځ د دوی کې دي په داسې حال کې چې لوبې کوونکي وو مونږ (او هيڅ يوه ګټه «فائده» د دوی په پيدايښت باندې مرتبه نه وي).

تفسير: يعنې چې په کې کوم «معتدّ به» حکمت او صحيح غرض نه وي، نو ځکه عقلمن ته نه ښايي چې د عالم د خلقت په غرض او غايه وپوهيږي، او دنيا تش د لوبې او تماشا ځای ونه ګڼي، او له انجام څخه غافل نشي، بلکه ښه وپوهيږي چې دنيا د آخرت لپاره پيدا کړی شوې ده، او د هر نېک او بد عمل جزاء او سزا رسېدل، او د ذرې ذرې حساب کېدل يوه حقه او ضروري خبره ده.

لَوْ أَرَدْنَآ أَنْ نَّتَّخِذَ لَهْوًا لَّاتَّخَذْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّآ ۖ إِنْ كُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿١٧﴾ بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ ۚ وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُوْنَ ﴿١٨﴾

او که اراده کړې وی مونږ چې ونيسو مونږ لهو (اسباب د شغل لکه ښځه او ولد)؛ نو خامخا نيولی به وو مونږ هغه لهو له طرفه خپله که وی مونږ کوونکي د دې کار. بلکه ويشتل کوو مونږ په حق سره په باطل باندې بيا (دغه حق) سر ماتوي د هغه (باطل) او محو کوي يې، پس ناڅاپه دا باطل هلاک (او ورک) کيږي، او تاسې ته اور، افسوس، عذاب، خرابي ده (ای کفّارو !) له هغه څه څخه چې ثابتوئ تاسې (په هغه سره الله ته ښځه، ولد).

تفسير: يعنې که بالفرض داسې لهو او لعب کار ځمونږ له شانه سره لايق هم وی، او مونږ داسې اراده هم کړې وی، چې همداسې کومې مشغلې او لوبې او تماشې جوړې کړو؛ نو دغه کار به مونږ بالذات پخپله او په خپل قدرت کړی وی، او ستاسې مجازات او مکافات کولو او نيولو او خوشې کولو ته به له سره هيڅ يو ضرورت نه وو پاتې، ليکن حقيقت دا دی چې دنيا محض لوبې او تماشا نه ده، بلکه د سعي او عمل او مبارزې ميدان دی، دلته د حق او باطل مقابله کيږي، حق يرغل کوي او د باطل سر ماتوي، له دې څخه تاسې د خپل شرک او ناپوهۍ په پای (آخر) او انجام وپوهيږئ، کله چې د حق او صداقت ګولئ او مردکی په پوره قوّت په تاسې ولويږي؛ هلته به څرنګه خرابي او بربادي ستاسې په برخه شي؟ او بل کوم يو طاقت به تاسې ته نجات درکړی شي؟.

وَلَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَمَنْ عِنْدَهٗ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَلَا يَسْتَحْسِرُوْنَ ﴿١٩﴾ يُسَبِّحُوْنَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُوْنَ ﴿٢٠﴾

او خاص ده لره دي هر هغه څوک چې په اسمانونو کې او په ځمکه کې دي (د پيدايښت، ملکيت، او بندګۍ له مخې)، او هغه (پرښتې) چې ده څخه دی؛ لږ څه تکبر، غرور او لويي نه کوي دوی له عبادت د ده (الله)، او نه ستومانه کيږي (له عبادته يې يوه شېبه «لحظه» هم). تسبيح وايي په شپه او ورځ کې، نه سست (او ضعيف) کيږي.

تفسير: يعني پرښتې سره له دې چې د الله تعالى د دربار له مقربانو څخه دي، لږ څه تكبر، غرور او لويي نه كوي، او د خپل الله تعالى بندګي او غلامي د خپل ځان لپاره عزت او فخر ګڼي، او د عبوديت د وظايفو په اداء كې لګيا اوسيږي، او له سره په كې نه ستړي كيږي، او نه تړې په تنګ كيږي، بلكه همدغه ذكر او تسبيح د دوی روحاني غذا ده، څرنګه چې مونږ تل خپله ساه او نفس ښكته او پورته كوو، او ورسره په نورو كارونو كې هم مشغوليږو؛ د پرښتو د تسبيح او ذكر كيفيت همدغسې وګڼئ ! پرښته پر هر كار چې مأموره شي، او په هر يوه خدمت كې چې بوخته او لګيا وي؛ يوه شېبه (لحظه) هم د الله تعالى له ذكره نه غافليږي.

أَمِ اتَّخَذُوٓا۟ ءَالِهَةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ هُمْ يُنشِرُونَ ﴿٢١﴾

آيا نېولي دي دوی نور معبودان له ځمكې څخه (يا په ځمكه كې) چې دوی به هم ژوندي كوي مړي (بلكه نشي ژوندی كولی).

تفسير: يعني اسماني پرښتې خو له سره د الله تعالى له بندګی څخه نه زړه تنګي او نه ستومانه كيږي، بلكه د ده په ياد او بندګی كې مشغولې وي، بيا آيا په ځمكه كې څه داسې موجودات شته چې هغوی د الله تعالى په مقابل كې معبود وګرځولی شي؟ او كله چې پاك الله د دوی عابدان په خپل عذاب كې هلاك كړي؛ آيا دوی يې بېرته ژوندي كولی شي؟ يا له هلاكت څخه ورته نجات وركولی شي؟ له سره يې نشي كولی.

لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا ۚ

كه چېرې وی په دغه اسمان او ځمكه كې نور معبودان (حاكمان) بې له الله څخه؛ نو خامخا وران شوي به وو دواړه (عادتًا د دوی د اختلاف په سبب).

تفسير: دغه د آلهه وو او د تعدّد پر ابطال نهايت پوخ او واضح دليل دی، چې عظيم الشأن قرآن هغه په خپل مخصوص اسلوب سره وړاندې كړی دی، ښه پام وكړئ ! چې عبادت دكامل تذلّل نوم دی، او كامل تذلّل صرف د هم هغه كامل لوی ذات په مخكې اختياراواه شي چې په خپل ذات او صفاتو كې له هر حيثه او هر جهته كامل وي، چې همدغه ته مونږ (الله جلّ جلاله) وايو.

فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٢٢﴾

نو پاك دی الله چې رب د عرش دی له هغو (ناكارو خبرو او شيانو) چې دوی يې منسوبوي ورته.

تفسير: چې د لوی عرش يواځې مالك او څښتن الله تعالى دی، د ده په ملك او باچايي كې له سره ګډون ځای نه لري، دی خپلواك باچا دی، كله چې دوه واكدار باچايان په يوه اقليم كې نشي ځاييدلی چې د هغو واكداري هم يواځې مجازي ده؛ نو دوه كل مختاره او مطلق قادر آلهه به څرنګه په يوه سلطنت كې شريك كېدی شي.

لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُونَ ﴿٢٣﴾

نه پوښتېدلی كيږي (الله) له هغو (شيانو) چې كوي يې (ځكه چې الوهيت يواځې د ده صفت دی)، او دوی پوښتېدلی كيږي (د دوی له افعالو، احوالو او اقوالو، ځكه چې دوی مخلوق او مملوك دي).

تفسير: يعني الله تعالى د هغه لوی ذات نوم دی، چې مطلق قادر او کل مختار دی (او ټول کارونه يې صواب او له حکمته ډک دي)، د ده د قدرت او مشيت مخه نيول لا څه چې تشه پوښتنه تر هم څوک نشي کولی، چې مثلاً هغه فلانی کار دې ولې داسې وکړ؟ مګر پاک الله حق لري، او ده لره ښايي چې هر هغه څوک چې اراده يې وشي؛ مؤاخذه يې کړي، او ترې لازمې پوښتنې وکړي.

أَمِ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ آلِهَةً ۖ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ ۖ

آيا نيولي دي (دغو مشرکانو) بې له دغه الله څخه نور معبودان؟ ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې راوړئ سند خپل (د شرک په دغه دعوی کې).

تفسير: له دې نه پخوا پر توحيد عقلي دليل قائم کړ شو، اوس له مشرکانو څخه د دوی د شرک د دعوی په خصوص د صحيح دليل غوښتنه کيږي، يعني بې له الله تعالی څخه د هغو معبودانو تجويز چې تاسې کړی دی؛ د دوی د اثبات لپاره که کوم عقلي يا نقلي دليل لرئ؛ هغه راوړاندې کړئ ! ښکاره ده چې له هغوی سره پرته له اوهامو او ګمانونو او د پلرونو او نيکونو له غلطو او رندو تقليدونو څخه بل هيڅ شی نه وو، د شرکت په دعوی کې يې نه کوم عقلي او نه کوم نقلي دليل وړاندې کړی شو.

هَٰذَا ذِكْرُ مَن مَّعِيَ وَذِكْرُ مَن قَبْلِي ۗ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ الْحَقَّ فَهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٤﴾

دغه (قرآن) دی بيان د هغه چا چې له ما سره دي (له محمدي امّت څخه) او بيان د هغه چا دی چې پخوا له ما تېر شوي دي، بلکه زياتره د دوی نه پوهيږي په حقه خبره (چې توحيد او قرآن دی)، پس دوی مخ ګرځوونکي دي (له توحيد يا ستا له رسالت څخه).

تفسير: يعني ځما د امت او د پخوانيو موحدينو ټولو همدا يوه خبره ده، چې له الله تعالی څخه پرته چې (رب العرش) دی؛ بل الله نشته، چې د هغه عقلي دليل پخوا له دې نه بيان شو، که تاسې د دغې عقيدې له منلو څخه مخ اړوئ، او له دغې اسماني او اجتماعي عقيدې څخه پرته کوم بل دليل لرئ؛ نو هغه راوړاندې کړئ، ځما دعوی دا ده چې دغه محمّدي امّت او نور پخواني امّتونه د دې کتاب قرآنکريم او د پخوانيو امّتونو اسماني کتابونه (تورات، انجيل، او نور) سره ټول د توحيد په دې دعوی کې سره متفق دي، لکه چې نن هم له هغو زياتو تحريفاتو سره که پخواني اسماني کتابونه ولټوئ؛ نو په هغو کې د توحيد اعلان او د شرک تردید په صاف او ښکاره ډول سره مومئ، مګر دغه جاهلان په دغو خبرو څه پوهيږي، که پوهېدلئ؛ نو د حقې خبرې د اوربدلو په مقابل کې به يې دغسې د انکار او اعراض وضعيت نه غوره کاوه.

وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ ﴿٢٥﴾

او نه وو لېږلی مونږ پخوا له تا څخه هيڅ رسول مګر چې وحي به کوله مونږ هغه ته (داسې) چې بېشکه شان دا دی چې نشته بر حق معبود مګر زه يم (يوائې)؛ نو بندګي کوئ ځما.

تفسير: يعني ټولو انبياوو او مرسلانو عليهم السلام د توحيد په دې عقيده اجماع کړېده، هيڅ يوه نبي عليه السلام په هيڅ يو وخت کې يو حرف هم د توحيد په خلاف نه دی ويلی، او دوی تل همداسې تلقين کاوه، چې د يوه الله تعالی له عبادت نه پرته د بل هيڅا عبادت مه کوئ ! ځکه چې هيڅوک بې د الله تعالی څخه د عبادت مستحق نه دي، نو په هم هغه شان چې له عقلي او فطري دلائلو څخه د توحيد ثبوت او تحصيل او د شرک تردید کيږي؛ همداسې په نقلي حيثيت هم د انبياوو عليهم السلام اجماع د توحيد د دعوی په حقانيت باندې قطعي دليل دی.

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ

او وايي دغه (منكران): نيولى دى رحمان ولد، پاك دى دغه (الله له ولد څخه).

تفسير: د عربو ځينو قبيلو ملائكو ته د الله تعالى لونې ويلې، نو يې و ښودل چې د الله تعالى له لوړ شان سره لايق نه دي چې لونې يا ځامن ولري، نو په دې آيت سره د نصرانيانو د دې عقيدې تردید هم وشو، چې مسيح عليه السلام ته ابن الله وايي، او د يهودانو د هغې فرقې تردید هم وشو؛ چې عُزير عليه السلام ته د الله ځوى وايي.

بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ﴿٢٦﴾ لَا يَسْبِقُوْنَهٗ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِاَمْرِهٖ يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٧﴾

بلكه (دوى) بندګان(د الله) دي مكرّم مقرّب معزّز (د الله په دربار كې په عزت سره). چې نشي رومبى كېدى دوى له دغه (الله) څخه په خبره سره، او دوى خاص په حكم د الله عمل كوي.

تفسير: يعنې هغو مكرّمو محترمو ذواتو ته چې تاسې د الله تعالى اولاد وايئ؛ هغه يې له سره اولاد نه دي، بلكه د هغه معزّز بندګان دي، او د دوى له انتهايي اعزاز او تقرّب سره سره د دوى د ادب او اطاعت حال دا دى چې د الله تعالى له رضاء او خوښې نه پرته د هغه په حضور كې له سره خوله نشي بهرته كولى، او نه بې د الله تعالى له حكم او اجازې څخه كوم كار كولى شي، ګواكې د عبوديت او بندګۍ كمال د دوى د امتياز طغرا او څرګنده نښه ده.

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ

معلوم دي الله ته هغه څه چې وړاندې د دوى دي، او هغه څه چې وروسته د دوى دي.

تفسير: د الله تعالى علم د دوى په ټولو ظاهري او باطني احوالو محيط دى، د دوى هيڅ يو حركت او هيڅ يو قول او هيڅ يو فعل له ده څخه پټ نه دى، لكه هغه مقرّب بندګان چې په دې حقيقت پوهيدلي دي، تل خپلو احوالو ته ګوري، او څارنه (حفاظت) يې كوي، چې په هيڅ يو حالت كې د الله تعالى د رضا څخه مخالف څه ونه كړي.

وَلَا يَشْفَعُوْنَ ۙ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى

او نه كوي شفاعت دوى (نشي كولى د هيچا) مګر لپاره د هغه چا چې راضي وي (ترې الله).

تفسير: يعنې دوى بې د الله تعالى د رضا معلومولو څخه د هيچا شفاعت نه كوي، كله چې له موحّدو مؤمنانو څخه پاك الله تعالى خوښ او راضي وي؛ نو ځكه د دوى په حق كې په دنيا او عُقبى كې استغفار د الله تعالى د پرښتو وظيفه ده.

وَهُمْ مِّنْ خَشْيَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ ﴿٢٨﴾

او دوى له هيبت د الله څخه ويريدونكي دي.

تفسير: بيا نو دوى ته څرنګه معبود ويلى شي؟ كله چې هغوى معبودان نه دي؛ نو د الله تعالى ځامن او لونې هم له سره كېدى نشي، ځكه چې صحيح اولاد د والدينو له جنس څخه وي.

وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّيْٓ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٩﴾

او هر څوك چې ووايي له دغو (ملائكو څخه چې) بېشكه زه معبود يم بې له الله څخه؛ پس دغه (ويونكي چې دي) جزا به وركوو مونږ ده ته دوزخ، همداسې (لكه چې دغو د الوهيت مدّعيانو ته سزا ورکوو)؛ جزاء ورکوو ظالمانو ته (چې د غير الله عبادت كوي).

تفسير: يعني هغه چې تاسې يې د الله تعالى اولاد يا آلهه بولئ، كه هغوى (معاذ الله) په خپله په فرض محال د داسې خبرې ادعاء وكړي؛ نو هغوى به هم په هغه دوزخ كې وغورځول شي، چې د نورو له حده تېرېدونكو ظالمانو د سزا لپاره مخصوص او معيّن دى، ځمونږ له لا محدود اقتدار او جبروت څخه هغوى هم بل چېرې نشي تلى، نو بيا څنګه الله كېدى شي؟ !.

أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا ۖ

آيا نه دي ليدلي (نه دي خبر) هغه كسان چې كافران شوي دي چې بېشكه اسمانونه او ځمكې وو دواړه سره نښتي (ضم پيوسته په اول كې)؛ پس بېل كړل مونږ دوى دواړه.

تفسير: د (رتق) اصلي معنى پيوست، نښتل او يو په بل كې سره ننوتل دي، په ابتداء كې ځمكه او اسمان دواړه ګډوډ، خلط ملط وو، بيا الله جل جلاله په خپل قدرت دوى دواړه سره جدا كړل، له دغه بېلوالي او جداوالي څخه وروسته د دوى دواړو طبقات سره بېل بېل او جدا شول، سره له دې بيا هم هر يو بند وو، نه له اسمان څخه باران وربېده، او نه له ځمكې څخه شى زرغونيده، بالآخره الله تعالى د انساني نوعې د ګټو او ښېګڼو (فائدو) لپاره د دغو دواړو خولې پرانستلې، له پاسه د وربځو د اوبو ورخونه پرانستل شول، او له لاندې د ځمكې مسامونه (سوري) خلاص شول، چې د هغو په اثر په ځمكه كې سيندونه، ويالې، لښتي او چينې وبهېدلې، او راز راز شينكي، كښتونه، فصلونه، بوټي، ونې، مېوې، دانې، څړځايونه، معدنونه او نور راووتل، او اسمان يې په بې شمارو ستورو سره ښايسته كړ، چې د دوى د هر يوه لپاره يې جدا ځاى او د تګ لاره او مدار مقرّر كړ.

وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾

او پيدا كړي دي مونږ له اوبو څخه هر شى ژوندى، نو آيا ايمان نه راوړي دوى.

تفسير: يعني عموما ژوندي موجودات چې ستاسې په نظر درځي؛ بالواسطه يا بلاواسطه د اوبو څخه جوړ شوي دي، او خاصتًا اوبه د دوى د ژوندانه سبب او ماده ده، مګر هغه مخلوق له دې نه مستثنى دى چې د هغو په نسبت دا ثابته شي؛ چې د هغو په تخليق كې اوبه له سره دخل نه لري، خو بيا هم دا كليه په دى اعتبار چې زياتو لپاره حكم د كُل وي، صادقه ده.

وَجَعَلْنَا فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ بِهِمْ وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿٣١﴾

او پيدا كړي دي مونږ په ځمكه باندې درانه محكم غرونه ولاړ (يا ټك وهلي دي مونږ په كې مېخونه) چې ونه خوځيږي دا ځمكه په دوى، او ګرځولې دي مونږ په دغه (ځمكه او غرونو) كې ارتې لارې لپاره د دې چې دوى لاره وموميږي (او بې له تكليف څخه خپل مقصود ته ورسيږي).

تفسير: د دې آيت تفسير د (النحل) په سورت كې تېر شوى دى، هلته دې وكتل شي !.

وَجَعَلْنَا السَّمَاءَ سَقْفًا مَحْفُوظًا ۖ

او ګرځولى دى مونږ اسمان چت ساتل شوى (له پرېوتلو).

تفسير: چې نه لويږي، نه په كې كوم سورى يا چاوده ليدل كيږي، نه بدليږي، او د شياطينو له استراق السمع څخه محفوظ دى، او سقف يې ځكه وويل چې: په ښكاره ډول په سترګو د چت په شان معلوميږي.

وَهُمْ عَنْ اٰيٰتِهَا مُعْرِضُوْنَ ﴿٣٢﴾

او دغه کفّار له علائمو داسمانونو څخه مخ ګرځوونکي دي.

تفسير: چې څرنګه مضبوط، محکم، وسيع او هسک (اوچت) دومره موده بې ستنو او پايو ولاړ دی، او په رنګ او روغن او ښکلا کې يې بيخي تغيير نه دی راغلی، او په کې لمر، سپوږمی، ستوري او داسې نور ډېر عجائب او غرائب ليدل کيږي، چې هر يو يې بېل بېل د رب العزّت په وجود او وحدانيت باندې دلالت کوي.

وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ

او دغه (الله) هغه (مطلق قادر دی چې پخپل بالغه حکمت) يې پيدا کړې ده شپه (د ارامتيا لپاره)، او ورځ (د کار لپاره)، او لمر (د رڼا لپاره)، او سپوږمی (د روښانتيا لپاره).

تفسير: دا د هم هغو اسماني علائمو او نښو لږ څه توضيح ده.

كُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ﴿٣٣﴾

دغه هر يو له دغو (لمر، قمر، او ستورو څخه) په فلک کې حرکت کوي، او ګرځي (لکه لامبوزن په اوبو کې په لامبو وهلو سره).

تفسير: يعنې لمر، سپوږمی بلکه ټول ستوري په خپل مدار باندې برابر ګرځي او چورلي، د ﴿يَّسْبَحُوْنَ﴾ له لفظ څخه ظاهر دا معلوميږي چې دا سيارې د الله تعالی په حکم بالذات په خپله ګرځي (والله تعالی أعلم).

وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ ؕ اَفَاْئِنْ مِّتَّ فَهُمُ الْخٰلِدُوْنَ ﴿٣٤﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ

او نه دي ګرځولی مونږ هيڅ يوه انسان ته پخوا له تانه (ای محمده !) تل ژوندي پاتې کېدل (په دنيا کې)، آيا پس که ته مړ شې پس دوی به تل پاتې کېدونکي وي (په دنيا کې؟ بلکه داسې نه ده). هر يو نفس څکونکی د مرګ دی (يعنې مري).

تفسير: يعنې هم هغسې چې د پورتنيو ذکر شوو مخلوقاتو وجود د الله تعالی پر امر ايجاد شوی دی، د ټولو انسانانو ژوندون هم د هغه له ورکړې څخه دی، هر وخت چې وغواړي؛ دغه خپله ورکړه له دوی نه بېرته اخلي، مړينه هر چا ته دا خبره ثابتوي چې د ده هستي او وجود د ده په لاس او واک کې نه دی، او د ده ژوند د څو ورځو د پسرلي رونق او ننداره ده، چې پای (آخر) ته رسيږي او ختميږي.

وَنَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ؕ

او ازمايو مونږ تاسې (په دنيا کې) په شر، بدی، او په خير، نېکی سره په ازموينه.

تفسير: يعنې الله تعالی په دنيا کې په سختی، نرمی، روغتيا، ناروغتيا، تنګسه، اړتيا (احتياج)، مصيبت، عيش، عشرت او نورو مختلفو احوالو تاسې ازمايي، څو ستاسې کره او کوټه، سره او ناسره، ښه او خراب د يو بل سره جدا او نورو ته هم د سر په سترګو ورمعلوم کړي، او ښه څرګنده (ښکاره) شي چې کوم يو په سختی صبر کوي؟ او کوم يو په نعمتونو شکر کوي؟ او څومره خلق د مايوسی، شکوه، شکايت او د ناشکری په مرض اخته او مبتلا دي.

وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ﴿٣٥﴾

او خاص مونږ ته به راوستلی شئ (د جزا لپاره).

تفسير: هلته به ستاسې د صبر او شکر او د هر نېک او بد عمل ثمره او نتيجه وليدلی شي.

وَإِذَا رَآكَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا الَّذِي يَذْكُرُ آلِهَتَكُمْ وَهُم بِذِكْرِ الرَّحْمَٰنِ هُمْ كَافِرُونَ ﴿٣٦﴾

او کله چې ووينې تا هغه کسان چې کافران شوي دي؛ نو نه نيسي دوی تا مګر مسخره کړی شوی، (او وايي پخپلو منځونو کې:) آيا دا همغه څوک دی چې يادوي (په بدی او سپکه) معبودان ستاسې، حال دا چې دغه کفّار په يادولو د رحمان (په وحدانيت يا د خلقو په ارشاد) هم دوی کافران دي.

تفسير: يعنې د خاتمې او انجام څخه بيخي بې فکره شوي دي، او دغه خلق په محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم ټوکې او مسخرې کوي، او د استهزاء او تحقير په لهجه داسې وايي: ﴿أَهَٰذَا الَّذِي يَذْكُرُ آلِهَتَكُمْ﴾ «آيا دا هم هغه سړی دی چې ستاسې معبودان په بدی يادوي؟»، دوی پخپله په دې نه شرميږي چې پخپله د حقيقي معبود له پاک نوم او د «رحمان» له مقدّس اسم څخه بد وړي؟ او د پاک الله تعالى له رښتينو کتابونو څخه منکر دي، او د باطلو معبودانو د بدی له اورېدلو څخه خفه کيږي، نو په دې صورت کې د دوی حالت د تعجّب او خندا وړ (لايق) دی، که د مقابلې ډلې؟.

خُلِقَ الْإِنسَانُ مِنْ عَجَلٍ ۚ سَأُورِيكُمْ آيَاتِي فَلَا تَسْتَعْجِلُونِ ﴿٣٧﴾

پيدا کړی شوی دی انسان له تلوار (بې صبرۍ)، ژر به وښيم تاسې ته آيات خپل (موعود عذاب)، پس تلوار مه کوئ تاسې (په راتللو د عذاب).

تفسير: ښايي د کفارو دغه د بې عقلۍ او ناپوهۍ اوضاع او دغه د تمسخر او استهزاء له ليدلو څخه د ځينو په زړونو کې به دغه خبره تېره شوي وي: که په دغو بې حياوو سم سمدلاسه عذاب مسلّط شوی وی؛ نو ډېر به ښه وي، او پخپله کفارو هم د استهزاء په ډول (طريقه) ويل چې: «هله ژر شئ، او هغه موعوده عذاب راباندې نازل کړئ ! چې مونږ د هغه وړ (لايق) او مستحق يو»، دلته دغو دواړو ته دغه خبره ښوولې شوې ده، چې انسان ډېر عجلت خوښوونکی دی، ګواکې د ده په خاوره او طبيعت کې بيړه او تلوار خلط او ګډ دی، ښايي چې دوی لږ څه صبر ځنډ (ايسارتيا) وکړي، ژر به زه خپل د قهر او انتقام نښې تاسې ته دروښيم.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٣٨﴾

او وايي (دا کفار:) کله به وي دغه وعده (د راتلو د عذاب يا دقيامت) که چېرې يئ تاسې صادقان رښتيني (په خپله دغه وينا کې)؟.

تفسير: يعنې تل ته وايي چې قيامت راتلونکی دی، او ټول کفّار به د تل لپاره په دوزخ کې سوځي، آخر دغه وعده به کله پوره کيږي؟ که دغه خبرې ټولې رښتيا وي؛ نو ولې همدا اوس قيامت او دوزخ نه راحاضروئ (الله تعالى وايي):

لَوْ يَعْلَمُ الَّذِينَ كَفَرُوا حِينَ لَا يَكُفُّونَ عَنْ وُجُوهِهِمُ النَّارَ وَلَا عَنْ ظُهُورِهِمْ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿٣٩﴾ بَلْ تَأْتِيهِمْ بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ رَدَّهَا وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿٤٠﴾

که پوهيدلي وی هغه کسان چې کافران شوي دي هغه وخت چې نه به شي منع کولی له مخونو خپلو اور (د دوزخ)، او نه له شاګانو خپلو (ځکه چې اور به تري چاپير وي)، او نه به له دوی سره مرسته وکړی شي (د عذاب په منع کولو کې، نو نه به کافران کېدل). بلکه رابه شي دوی ته (دغه قيامت) ناڅاپه (بې له مقدمې)، پس حيران به کړي (هغه)پس طاقت به نه لري دوی د لرې کولو د قيامت، او نه به دوی ته مهلت ورکولی شي (د توبې او عذر).

تفسير: يعنې که دوی ته حقيقت څرګند (ښکاره) شي، او د هغه هيبتناک ساعت په کيفيت او نوعيت په ښه ډول سره ځان خبر او پوه کړي؛ نو بيا به له سره داسې غوښتنې ونه کړي.

دغه ټول بې ځايه اعتراضونه د بې فکرۍ او ناپوهۍ لامله د دوی په ذهنونو کې پيدا شوي، کله چې له هغه ويروونکي وخت سره مخامخ شي، او د دوی له چارچاپيره د دوزخ اور داسې احاطه وکړي، چې له هيڅ لوري به د هغه دفع نشي کولی، او نه به څوک ورسره مرسته کولی شي، نه به مهلت ورکولی شي، او نه به اوس لا له پخوا ځخه د هغې ورځې د کامل شان او کيفيت اندازه او اټکل کولی شي؛ نو د دغه هولناک حالت په ناڅاپي ليدلو سره به د دوی حواس خراب شي، بيا به دا ورمعلومه شي، کوم شي پورې چې مونږ خندل، او باور مو پرې نه کاوه؛ هغه يو ثابت حقيقت وو.

وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِينَ سَخِرُوا مِنْهُمْ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٤١﴾

او خامخا په تحقيق مسخرې شوي دي په رسولانو پخوا له تا، پس احاطه وکړله په هغو کسانو چې مسخرې پې کولې له پخوانيو امتونو نه (جزا) د هغه شي چې وو دوی چې په هغه سره به يې مسخرې کولې.

تفسير: يعنې په هر هغه شي يې چې مسخرې کولې؛ د هم هغه په سزا کې سره اخته شول، او د هغې خندا او ملنډو مورد ببرته پخپله همدوی ورګرځېدل.

قُلْ مَنْ يَكْلَؤُكُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ مِنَ الرَّحْمَٰنِ

ووايه (ای محمده دوی ته) څوک ساتي تاسې د شپې او د ورځې له عذاب د رحمان ځخه (که يې درپېښ کړي؟ هيڅوک نشته).

تفسير: يعنې د «رحمان» له قهر او غوسې ځخه ستاسې ساتونکی بل څوک دی، يوائې د هغه پراخه رحمت دی، چې په تاسې سمدلاسه عذاب نه مسلّط کوي، ليکن د داسې رحمت والا، حليم، متحمل او بردبار له قهر او غوصې ځخه ډېره وېره په کار ده: «نعوذ بالله من غضب الحليم».

بَلْ هُمْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ مُعْرِضُونَ ﴿٤٢﴾

بلکه دوی له ياده د رب خپل (يا له قرآن ځخه) مخ ګرځوونکي دي.

تفسير: يعنې د «رحمان» د حفاظت احساس او اعتراف له هغو سره نشته، او عيش، عشرت، چرچې، امنيت، آرامتيا او د تنعم ژوندون دوی د الله تعالی له ياده بيخي غافل کړي دي، نو ځکه کله چې د هغه له طرفه دوی ته نصيحت کيږي؛ مخ تري ګرځوي، او وايي چې دا ته څه وايي؟.

أَمْ لَهُمْ آلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ مِنْ دُونِنَا ۚ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَ أَنْفُسِهِمْ وَلَا هُمْ مِنَّا يُصْحَبُونَ ﴿٤٣﴾

آيا شته دوی لپاره نور معبودان چې ساتي دوی (له عذاب څخه) غير له مونږ نه (بلکه نشته، بيا پخپله الله وايي:) طاقت نه لري (دغه معبودان) د مرستې (مدد) د خپلو نفسونو، او نه دوی ځمونږ له (عذاب څخه) ساتل کيږي (يا ملګرتيا ورسره کولی شي).

تفسير: يعنې آيا د خپلو فرضي معبودانو په نسبت خيال کوي چې هغوی د دوی حفاظت کوي، او پخپله موقع کې به دوی د الله تعالی له عذاب څخه وژغوري (بچ کړي)؟ نو د دغو خوارانو مرسته او حفاظت لا څه چې د خپل ځان حفاظت هم نشي کولی، که څوک هغوی ګوډ يا مات کړي، يا يو شی ترې واخلي؛ نو دومره قدرت او قوّت نه لري، چې د خپل ځان مدافعه يا ساتنه وکړي، يا لږ څه لاس او پښې د هغو په مقابل کې وخوځوي، يا د خپلې ساتنې لپاره ځمونږ مرسته او ملګرتيا حاصله کړي:

بَلْ مَتَّعْنَا هَٰؤُلَاءِ وَآبَاءَهُمْ حَتَّىٰ طَالَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ۗ

(نه ده داسې لکه چې کفّار عقيده کوي) بلکه نفع رسولې ده مونږ دغو کفارو او پلرونو د دوی ته (د ژوندانه په اسبابو سره) تر هغه پورې چې اوږده شوه په دوی باندې (موده د) عمر.

تفسير: يعنې د «رحمان» ساتنه او حفاظت او د بتانو عجز او بېچارګي داسې شی نه دی، چې خلق پرې ونشي پوهېدلی، خبره دا ده چې دوی له ډېرو پېړيو راپه دېخوا د بې فکرۍ ژوند تېر کړی دی، او د الله تعالی د عذاب صدمه يې هيڅ نه ده ليدلې، نو ځکه دوی مغرور شوي دي، او د غفلت په نشو کې مست او بيخوده پراته دي، او د الله تعالی له احکامو او د انبياوو له پند څخه يې مخونه ګرځولي دي.

أَفَلَا يَرَوْنَ أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ نَنْقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ أَفَهُمُ الْغَالِبُونَ ﴿٤٤﴾

آيا پس نه وينې (کفّار) چې بېشکه مونږ راتګ او (قصد) کوو ځمکې (د کفّارو) ته په داسې حال کې چې کموو هغه له څنډو (غاړو) د دغې (ځمکې نه له فتوحاتو وروسته)، آيا پس کفّار غالب دي (په مؤمنانو بلکه د اسلام په مقابل کې مغلوب دي).

تفسير: يعنې اسلام مخ په خورېدو دی، او کفر ورځ په ورځ کمزوری کيږي، او ورو ورو ځمکه په کفّارو تنګيږي، د دوی حکومتونه او رياستونه به پرله پسې ماتيږي، او له منځه به ورکيږي، نو آيا د داسې ښکاره ننبو، آثارو او قرائنو په ليدلو سره هم دوی خپل انجام ته نه ګوري، آيا له دغو مشاهداتو سره سره دوی دا اميد لري چې په رسول الله صلى الله عليه وسلم او مسلمانانو باندې به مونږ غالب شو، که دوی د عبرت سترګې لري؛ نو پکار دي چې له عقل نه کار واخلي، او له قرائنو او احوالو څخه د مستقبل اټکل او اندازه ولګوي، آيا دوی ته دغه خبره نه ده معلومه چې د دوی د شاوخوا کلي د انبياء الله عليهم السلام د تکذيب او عداوت په سزا کې تباه او وران شوي دي، او په پای (آخر) کې د الله تعالی حزب بريالی او کامياب شوی دی، بيا د سيّد المرسلين او کاملو مؤمنانو په مقابل کې دوی څرنګه د خپل بري او غلبې توقّع او هيله (اميد) کولی شي؟ ﴿وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ مِنَ الْقُرَىٰ وَصَرَّفْنَا الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾ (٢٦ جزء د الأحقاف سورت (٤) رکوع (٢٧) آيت).

تنبيه: په همدې مضمون يو بل آيت هم د (رعد) د سورت په آخر کې تېر شوی دی، د هغه تفسير دې ځمونږ په دغه مبارک تفسير کې وکتلی شي.

قُلْ إِنَّمَآ أُنذِرُكُم بِٱلْوَحْىِ ۖ وَلَا يَسْمَعُ ٱلصُّمُّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا مَا يُنذَرُونَ ﴿٤٥﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) بېشكه همدا خبره ده چې زه ويروم تاسې په وحي سره، او نه اوري كوڼ دعاء (بلنه) كله چې وويرولى شي (نو تاسې هم د كافه په شان حقه خبره نه اورئ).

تفسير: يعنې ځمونږ كار د الله تعالى له وحي سره سم نصيحت اورول او له خاتمې او انجام څخه خبرول دي، كه په زړه كافه دغه غږ نه اوري؛ نو ځمونږ قصور نه دى، دوى به د خپل كوڼوالي نتيجه او بده اغېزه (اثر) په خپله وګالي (برداشت كړي).

وَلَئِن مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُولُنَّ يَٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٤٦﴾

او كه ورسيږي دوى ته لږ څه تپ له عذابه د رب ستا؛ نو خامخا وايي (كفار) هرومرو: اى هلاكه ځمونږ (راحاضر شه دغه دې وخت دى)، بېشكه چې مونږ وو (پخوا له دغه عذاب څخه) ظالمان (په كفر سره).

وَنَضَعُ ٱلْمَوَٰزِينَ ٱلْقِسْطَ لِيَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا ۖ وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا ۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ ﴿٤٧﴾

او كېږدو تلې د انصاف لپاره د (اهل د) ورځې د قيامت، پس ظلم به ونه كړى شي په هيڅ نفس د هيڅ شي (هيڅ)، او كه وي (دغه عمل) په قدر د يوې دانې شرشم، اورى؛ نو رابه وړو دغه (دانه)، او بس يو مونږ حساب كوونكي (يا ساتونكي د بندګانو د اعمالو).

تفسير: يعنې د اورى د دانې په اندازه چې د چا عمل وي؛ هغه به هم په ميزان كې تلل كيږي، او هغه به هيڅ ضايع نشي، نه به په چا ظلم او تېرى كيږي، او د ذرې ذرې حساب به كيږي، او زمونږ حساب به داسى وروستى او فيصله كونكي وي چې وروسته به نه بل حسابوي، او نه به مونږ ددغو مخلوقاتو د اعمالو د محاسبى لپاره كوم مرستيال ته ضرورت لرو.

تنبيه: موازين د ميزان جمع ده، ښايي چې هلته به ډېرې تلې وي، يا ممكن دي چې يوه وي مګر د مختلفو اعمالو او عمالو په اعتبار به متعددې درولې شوې وي، و الله تعالى أعلم، د اعمالو د وزن او د ميزان په متعلق پخوا له دې نه د «الأعراف» په سورت كې خبرې شوي دي؛ هلته دې وكتل شي.

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ٱلْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَذِكْرًا لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾

او هرومرو په تحقيق ورکړى وو مونږ موسى او هارون ته فرقان (د حق او باطل بېلوونكى كتاب) او رڼا (چې حق پرې له باطل څخه پېژندل كيږي) او نصيحت لپاره د پرهېزګارانو.

تفسير: يعنې تورات شريف د موسى عليه السلام په زمانه كې د حق او باطل، هدايت او ضلالت، حرامو او حلالو او نورو مسائلو فيصله كوونكى او د جهل او غفلت د تيارو رڼا كوونكى او له الله تعالى څخه د ويريدونكو لپاره پند وركوونكى كتاب وو.

الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ مِّنَ السَّاعَةِ مُشْفِقُونَ ﴿٤٩﴾

(متقيان) هغه کسان (دي) چې ويريږي له رب خپل په غيب سره، او دوی (تل) له قيامت څخه ويريدونکي دي.

تفسير: د قيامت خطره هم ځکه دوی په خپلو زړونو کې لري چې د دوی په زړونو کې د الله تعالی وېره ده، او تل په دغه اندېښنه او سودا کې وي چې هلته به څه راپېښيږي؟ نه چې (العياذ بالله) د الله تعالی د قهر او عذاب وړ (لايق) وګرځو، ښکاره ده چې همداسې خلق د نصيحت څخه ګټه (فائده) اخيستلی شي.

وَهَٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ أَنزَلْنَاهُ ۚ أَفَأَنتُمْ لَهُ مُنكِرُونَ ﴿٥٠﴾

او دا (قرآن) نصيحت دی مبارک چې نازل کړی (لېږلی دی) مونږ هغه (په محمد باندې)، آيا پس تاسې له دې نه انکار کوونکي يئ.

تفسير: يعنې دغه قرآن چې ستاسې په مخکې دی، د نصيحت داسې يو کتاب دی چې د ده لوی ارزښت (قيمت) زياته ګټه او خير د تورات په نسبت ښه څرګند او ښکاره دی، آيا له داسې يو واضح او روښان کتاب څخه تاسې منکر ېږئ، چې له سره په کې د انکار او تردّد ځای نشته؟.

وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ مِن قَبْلُ

او خامخا په تحقيق ورکړې وه مونږ ابراهيم ته نېکه حقه لاره د ده (په عقائدو او اعمالو کې) پخوا له (نبوّت يا پخوا له موسی يا پخوا له محمد څخه).

تفسير: يعنې د محمد صلی الله عليه وسلم، او موسی او هارون عليهما السلام څخه مو پخوا ابراهيم عليه السلام ته د ده د اعلی قابليت او شان سره مناسب رشد او هدايت ورکړی وو، بلکه له ځلميتوب څخه پخوا لا په کوچنيتوب (ماشوم والي) کې مو هغه په داسې سمه لار برابر کړی وو چې د داسې اولوالعزمو انبياوو له شان سره وړ او مناسبه وه.

وَكُنَّا بِهِ عَالِمِينَ ﴿٥١﴾

او وو مونږ په ده باندې پوه (چې ابراهيم د رشد له خاوندانو څخه دی).

تفسير: يعنې د ده په استعداد، اهليت، عملي او عملي کمالاتو مونږ پوره پوه او خبر وو، نو ځکه مو هغه رشد او هدايت ورکړ؛ چې د ده له شان سره وړ او مناسب وو.

إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا هَٰذِهِ التَّمَاثِيلُ الَّتِي أَنتُمْ لَهَا عَاكِفُونَ ﴿٥٢﴾

کله چې وويل (ابراهيم) پلار خپل (آزر) ته او قوم خپل ته چې څه دي دغه بتان چې تاسې دوی ته ولاړ يئ په عبادت سره (لکه مجاوران).

تفسير: يعنې لږ څه خو د دوی اصليت او حقيقت بيان کړئ ! آخر په خپلو لاسونو د تېږو (ګټو) توږلي بتانو ته څنګه معبودان وايئ؟ او هغوی څرنګه ستاسې معبودان کېدی شي؟.

قَالُوا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا لَهَا عٰبِدِيْنَ ﴿٥٣﴾

نو وويل دوی چې: موندلي دي مونږ پلرونه خپل دغو (بتانو) ته عبادت کوونکي (نو مونږ هم د هغو متابعت کوو).

تفسير: يعنې د عقل او فطرت او د نقل کوم باوري شهادت ځمونږ په تاييد کې نشته، او نه دې وي، ليکن ډېر لوی دليل د بت پرستۍ په صواب او حقانيت همدا دی چې: له پخوا راهيسې ځمونږ پلرونه او نيکونه د دوی په عبادت کې بوخت او مشغول وو، بيا مونږ د هغو خپلو لويانو دود (رواج) او دستور او طريقه ولې پرېږدو؟.

قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٥٤﴾

وويل (ابراهيم) خامخا په تحقيق يې تاسې او پلرونه ستاسې (په سبب د بُتانو) په ګمراهۍ ښکاره کې (هر عاقل ته).

تفسير: يعنې په دغه دليل سره ستاسې حقانيت او پوهه نه ثابتيږي، هو ! دغه خبره ثابتيږي چې تاسې هم د خپلو پلرونو په شان ګمراهان او ناپوهان ناخبره يئ ! او د هغو په دغه ړوند تقليد او بې ځايه متابعت تباه او بربادېږئ.

قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ اَنْتَ مِنَ اللّٰعِبِيْنَ ﴿٥٥﴾

نو وويل (قوم ابراهيم ته) آيا راغلی يې ته مونږ ته په حق سره (رښتيا خبرو سره)؟ او که يې ته له لوبو کوونکو ځخه؟.

تفسير: د ټول قوم له عقيدې ځخه مخالف د ابراهيم عليه السلام د داسې سختې خبرې په اورېدلو سره د دوی په زړونو کې سخت خفګان او اضطراب پيدا شو، او ورته يې وويل چې: آيا په رښتيا سره ستا عقيده همداسې ده؟ يا ټوکې او مسخرې کوې؟.

قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الَّذِيْ فَطَرَهُنَّ ۖ وَاَنَا عَلٰى ذٰلِكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٥٦﴾

وويل (ابراهيم داسې نه ده چې زه ټوکې کوم، يا دا بُتان رب ستاسې دی،) بلکه رب ستاسې رب د اسمانونو او (رب) د ځمکې دی هغه (الله) چې پيدا کړي يې دي دا (اسمانونه او ځمکې او ما فيهما)، او زه په دغو (چې ومې ويل له توحيد نه) له شاهدانو ځخه يم.

تفسير: يعنې ځما عقيده همدا ده، او په پوره يقين او بصيرت سره پرې شاهدي ورکوم، چې ځما او ستاسې رب هم هغه يو الله تعالى دی، چې اسمانونه او ځمکې يې پيدا کړي دي، او د هغوی او د هغوی او د نورو ټولو خپلو مخلوقاتو حفاظت او ساتنه کوي، او بل هيڅ شی د ده په الوهيت کې له سره نشي شريکېدی.

وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿٥٧﴾

او قسم دی په الله خامخا څه تدبير او علاج به وکړم هرومرو (چې مات کړم) بُتان ستاسې پس له هغه چې وګرځئ تاسې شا کوونکي (بُتانو ته مخ په مېله).

تفسير: دغه خبره يې لږه ورو وويله، چې ځينو يې واورېده او ډېرو له سره وانه ورېده، هغو چې دغه خبره واورېده؛ ورته يې دومره اهميت ور نه کړ، او داسې يې وګڼله چې د يوه ځلمي له لاسه به څه وشي؟ او دی به د ټول قوم معبودانو ته څه ضرر ورورسولی شي؟.

فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ ﴿٥٨﴾

پس ويې ګرځول دا بُتان ټوټې ټوټې مګر لوی د دې بُتانو (چې مات يې نه کړ، او تبر يې په اوږه ورته کېښود) لپاره د دې چې دوی هغه ته بېرته راشي (او ترې پوښتنه وکړي).

تفسير: څه مهال (وخت) چې دا خلق ټول له ښاره د باندې مېلې ته لاړل، نو ابراهيم عليه السلام بت خانې ته ورننوت، ټول بُتان يې سره مات ګوډ کړل، او يواځې هم هغه بُت يې روغ جوړ پرېښود؛ چې د نورو په نسبت د جُثې يا د تعظيم او تکريم په اعتبار د کفارو په ګومان لوی وو، او په هغه تبر يې چې دغه بُتان مات کړي وو؛ هغه يې د هم هغه لوی بُت په اوږه باندې کېښود، څو چې خلق بېرته راشي، او دغه وضعيت وګوري نو په قدرتي ډول به د دوی په زړونو کې دغسې يو خيال پيدا شي چې دغه کار همدغه لوی بُت کړی دی، يا الزامًا ابراهيم عليه السلام ته رجوع وکړي.

(کفارو له مېلې نه د بېرته راګرځېدو او د خپلو بُتانو د کنډوکپر کېدلو څخه وروسته):

قَالُوا مَن فَعَلَ هٰذَا بِآلِهَتِنَا إِنَّهُ لَمِنَ الظّٰلِمِينَ ﴿٥٩﴾

وويل دوی: چا کړی دی دا کار په معبودانو ځمونږ، بېشکه چې دی خامخا له ظالمانو دی (په دې کار کې).

تفسير: يعنې دا د سپين سترګی او بې ادبۍ حرکت ځمونږ له معبودانو سره چا کړی دی؟ يقينًا هر چا چې دا کار کړی دی، هغه (أستغفر الله) لوی ظالم او غټ شرير دی، دا خبرې به هغو کسانو کړي وي چې د هغوی غوږونو ته د ﴿وَتَاللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُم﴾ غږ نه وي رسېدلی.

قَالُوا سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرٰهِيمُ ﴿٦٠﴾

وويل (ځينو کفارو) چې اوريدلي وو مونږ له يوه ځلمي څخه چې يادول به يې دا بُتان (په بدۍ سره) چې ويلی شي ده ته ابراهيم.

تفسير: دا ويونکي به هغه کسان وي چې د ابراهيم عليه السلام ﴿وَتَاللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُم﴾ جمله يې اوربدلې وه، يعنې هم هغه يو ځلمی دی چې ځمونږ د معبودانو ذکر په بدۍ سره کوي، يقينًا دا کار به هم هغه کړی وي.

قَالُوا فَأْتُوا بِهِ عَلَىٰ أَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ ﴿٦١﴾

وويل (نمرود او مشرانو يې) چې راولئ هغه (ابراهيم) په مخکې د سترګو د خلقو (چې ويې وينئ) ښايي چې دوی ووينې (هغه، او په کولو د دې کار پرې شاهدي ورکړي).

تفسير: يعنې هغه راولئ ! او د دغه عمومي مجمع په مخکې ترې اقرار واخلئ، څو په دغه خبره ټول خلق خبر او دغه معامله ټولو ته څرګنده شي، او د ده وينا هر څوک واوري او پرې شاهدان شي، چې د هغې په مقابل کې د قوم له طرفه داسې يوه سزا ورته مقرّره شي چې دی يې مستحق وي، دا خو د هغوی غرض وو، او د ابراهيم عليه السلام مقصد به

هم ښايي همدا شی وو، چې همداسې په يوه لويه مجمع کې ماته موقع راکړی شي څو زه په هغه کې مشرکان پرې او ملامت کړم، او د خلقو په وړاندې د حق او حقانيت د غلبې اظهار وکړی شم.

(نو کله چې ابراهيم عليه السلام يې راوست؛ دغه لاندينۍ پوښتنې يې ترې وکړې):

قَالُوْٓا ءَاَنْتَ فَعَلْتَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا يٰٓاِبْرٰهِيْمُ ﴿٦٢﴾ قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ ۖ كَبِيْرُهُمْ هٰذَا فَسْـَٔلُوْهُمْ اِنْ كَانُوْا يَنْطِقُوْنَ ﴿٦٣﴾

وويل (بابليانو) آيا تا کړی دی دا کار په معبودانو ځمونږ ای ابراهيمه؟. وويل (ابراهيم): بلکه کړی دی دا کار مشر د دوی چې دا دی، نو پوښتنه وکړئ تاسې له دوی که وي دوی چې خبرې کوي (چې چا ټوټې ټوټې کړي يئ؟).

تفسير: يعنې هيڅ ضرورت نشته، چې له ما څخه د دې خبرې پوښتنې وکړئ، بلکه داسې فرض کړئ چې دا لوی غټ بُت چې روغ رمټ جوړ ولاړ دی، او د ماتولو آله هم ورسره شته، دا کار به همده کړی وي، او دا دی د بحث او تحقيق په وخت کې د الزام او پرواليې په ډول زه دغسې دعوی کوم، چې دغه لوی بُت دا ټول کوچني (واړه) بُتان سره ګوډ مات کړي دي.

تنبيه: ځمونږ له دې تقرير څخه څرګنده شوه چې د ﴿بَلْ فَعَلَهٗ ۖ كَبِيْرُهُمْ هٰذَا﴾ وينا د اخبار په ډول له واقعې مخالفه نه وه چې ورته حقيقتًا دروغ وويل شي، بلکه د دوی د تحميق او تجهيل لپاره د يو فرضي احتمال په شان د دعوی په صورت د تعريض او الزام په ډول کلام شوی دی، لکه چې بالعموم په مباحثو او مناظرو کې همداسې واقع کيږی، نو دې ته مونږ دروغ نشو ويلی، هو ! ظاهرا د دروغو په صورت راښکاري، نو ځکه په ځينو احاديثو کې پرې د (کذب) د لفظ اطلاق صورتًا شوی دی، مفسّرينو د دې په توجيه نور څه مجمل بيان هم کړی دی، مګر ځمونږ دغه تقرير ښه او زيات صاف او بې تکلّفه او روايتونو ته ډېر نژدې ښکاري (والله تعالى أعلم).

فَرَجَعُوْٓا اِلٰٓى اَنْفُسِهِمْ فَقَالُوْٓا اِنَّكُمْ اَنْتُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٦٤﴾

پس رجوع وکړه (دغو کفّارو په فکر کولو سره) نفسونو خپلو ته، نو وويل (ځينو ځينو نورو ته:) بېشکه تاسو يئ ظالمان.

تفسير: يعنې وپوهېدل چې د بېکاره تيرو (ګټو) د عبادت کولو څخه څه فائده حاصليږي، يا به دا مطلب وي چې تاسې په خپله پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی، چې د ابراهيم عليه السلام د انذار اورېدلو سره سره بُت خانه مو هم هغسې خوشې پرانستلې پرېښوده، او ترې لاړئ، او د خپلو معبودانو د حفاظت او ساتنې هيڅ فکر او تدبير مو ونه کړو، کذا قال ابن كثيررحمه الله.

ثُمَّ نُكِسُوْا عَلٰى رُءُوْسِهِمْ ۚ

بيا نسکور کړل شول دوی پر سرونو خپلو (يعنې شرمنده شول، خو سره له هغه هم ابراهيم عليه السلام د مجادلې لپاره يې ملاوې وترلې).

تفسير: يعنې له ډېره شرمه يې خپلې سترګې نشوې پورته کولې، او يو بل ته به يې له سره نشو کتلی، خو سره له هغه يې ابراهيم عليه السلام ته داسې وويل:

لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَٰؤُلَاءِ يَنطِقُونَ ﴿٦٥﴾

چې خامخا په تحقيق پوه يې ته چې نه دي دا بُتان (قابل د دې) چې وغږيږي (نو څرنګه مونږ ته له دوی څخه د سوال کولو امر کوې).

قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْئًا وَلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾ أُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾

نو وويل (ابراهيم عليه السلام) نو آيا پس تاسې عبادت کوئ بې له الله څخه د هغه شي چې نه نفع رسوي تاسې ته د هيڅ شي، او نه ضرر رسولی شي تاسې ته (د هيڅ شي). نو افسوس (او هلاکت) دی تاسې ته او هغه ته چې عبادت يې کوئ بې له الله، نو آيا نه لرئ تاسې دومره عقل هم (چې د خپلو افعالو په قباحت او بدۍ وپوهيږي).

تفسير: يعنې تاسې ته ښايي چې له ډېره شرمه ومرئ، هغه بُت چې يو لفظ هم نشي ويلی او نه د کوم احتياج په وخت کې مو په کار راځي، او نه مو مدد کولی شي، او د يوې ذرې په اندازه نه څه نفع او نه څه ضرر دررسولی شي، او نه يې څه په واک او اختيار کې شته، هغو ته مو د ألوهيت درجه ورکړې ده، آيا په دومره غټه خبره هم نشئ پوهېدی؟.

(کله چې نمرودیان له مجادلې څخه عاجز شول، د ابراهيم عليه السلام په سوځولو پسې شول)

قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ ﴿٦٨﴾

وويل (نمروديانو) وسوځوئ تاسې دغه (ابراهيم) او مرسته وکړئ تاسې د معبودانو خپلو که چېرې يئ تاسې کوونکي (د دې مرستې خپلو بُتانو سره).

تفسير: يعنې په بحث او مناظره يې نشو پرې کولی، اوس يواځې همدغه يو صورت پاتې دی، او هغه دا دی چې: مونږ له خپلو معبودانو سره چې نه يواځې ځمونږ سره بلکه له خپلو ځانونو سره هم مرسته نشي کولی؛ مرسته وکړو، او د دوی دښمن ته ډېره سخته سزا ورکړو، که مونږ داسې ونشو کړی؛ نو ګواکې هيڅ کار مو نه دی کړی.

لکه چې د دغې مشورې سره سم غوټه شوه چې ښايي ابراهيم عليه السلام په اور کې وسوځول شي، ګواکې څرنګه چې ابراهيم عليه السلام د بُتانو په ماتولو د دوی زړونه سوځولي وو، دوی هم د هغه په بدل کې د ده د سوځولو تجويز غوره کړ، بالآخره دغه ګرد ظالمان سره ټول شول، او په ډېر اهتمام او بې رحمی سره يې ابراهيم عليه السلام په ډېر لوی لمبې وهونکي او سخت سوځوونکي اور کې وغورځاوه.

(کله چې دوی ابراهيم په اور کې وغورځاوه؛ د الله تعالى له لوري داسې حکم وشو:)

قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ ﴿٦٩﴾

وويل مونږ: ای اوره ! شه يخ او خاوند د سلامتيا پر ابراهيم باندې.

تفسير: يعنې اور ته تکويني حکم وشو، چې په ابراهيم عليه السلام يخ شه ! مګر دومره يخ هم مه شه ! چې له ډېرې يخنۍ څه تکليف ورته ورسيږي، بلکه داسې برابر او معتدله شه، چې د هغه ځان ښه په راحت شي.

تنبيه: د اور يخېدل پر ابراهيم عليه السلام باندې د ده معجزه وه، د معجزې حقيقت هم دا دی چې الله تعالی د خپل عادت پر خلاف عادي سبب له مسببه او مسبب له سبب څخه بېل کړي.

دلته د احراق سبب (اور) موجود وو، مګر مسبب پرې مرتب نه شو.

وَ اَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَخْسَرِيْنَ ﴿٧٠﴾

او غوښتل (نمرود) پر ابراهيم کيد (مکر د سوځولو)؛ نو وګرځول مونږ دوی سخت زيانکاران (چې پخپل فعل کې کامياب نشول).

تفسير: يعنې دوی د ابراهيم عليه السلام بد غوښتل، ليکن دوی په خپله په ناکامی، ذلت او زيان کې پرېوتل، د حق صداقت په ښکاره صورت څرګند شو، او د الله تعالی کلمه لوړه (اوچته) او عُليا وګرځېده.

وَ نَجَّيْنٰهُ وَ لُوْطًا اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿٧١﴾

او نجات مو ورکړ دغه (ابراهيم) ته او لوط ته (او بومو تلل دواړه، چې ځئ له عراقه) ځمکې هغې ته چې برکت اچولی وو مونږ په هغې کې لپاره د خلقو (چې شام دی).

تفسير: يعنې ابراهيم مو سره د لوط عليهما السلام صحيح او سالم روغ رمټ د شام ملک ته بوتلل، چې هلته ډېر ظاهري او باطني برکات د وديعت په ډول ايښودل شوي دي.

وَ وَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ ؕ وَ يَعْقُوْبَ نَافِلَةً ؕ وَ كُلًّا جَعَلْنَا صٰلِحِيْنَ ﴿٧٢﴾

او وموښل دغه (ابراهيم) ته (ځوی) اسحاق او (لمسی) يعقوب زيات (سربېره د ځوی پر غوښتنې د انعام په ډول)، او دغه ټول ګرځولي دي مونږ نېکان (چې خلقو ته يې لارښوونه کوله.)

تفسير: په زوړ والی کې يې هلک غوښتی وو مونږ لمسی هم ورکړ يعنې يعقوب عليه السلام، او دا ټول يعنې ابراهيم، لوط، اسحاق، يعقوب عليهم السلام په اعلی درجه سره له نېکو بندګانو ځنې دي، ځکه چې ګرد د الله تعالی انبياء دي، او له انبياوو څخه پورته بل څوک نېک او ښه کېدی نشي.

وَ جَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا

او ګرځولي وو مونږ دوی (داسې) امامان چې سمه صافه لاره يې ښوولې په حکم ځمونږ سره (خلقو ته).

وَ اَوْحَيْنَاۤ اِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرٰتِ وَ اِقَامَ الصَّلٰوةِ وَ اِيْتَآءَ الزَّكٰوةِ ۚ

او وحي کړې وه مونږ دوی ته د کولو د خيراتونو (نېکو کارونو) او د قائمولو (سم اداء کولو) د لمانځه او د ورکولو د زکات.

تفسير: يعنې هغوی ته مو وحي لېږلې وه، چې په هغې کې د دغو امور تأکيد هم وو، څو نه يواځې دوی عاملان شي، بلکه نور خلق هم د هغو ښو اعمالو په کولو باندې وګماري، دغه د دوی علمي کمال شو.

وَكَانُوا لَنَا عٰبِدِينَ ﴿٧٣﴾

او وو دوی (ټول) خاص مونږ ته عبادت کوونکي.

تفسير: يعنې شپه او ورځ به ځمونږ په بندګۍ او عبادت کې بوخت (مشغول) وو، بل کوم طرف ته به يې سترګې نه اړولې، دغه د دوی عملي کمال شو، نو تاسې ای عربو چې د ابراهيم عليه السلام اولاد يئ، او د هغه د متابعت دعوی کوئ، ولې د هغو د دې علمي او عملي کمالاتو متابعت نه کوئ، بلکه حقيقتًا يې تابعان شئ !.

وَلُوطًا اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا وَّنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فٰسِقِيْنَ ﴿٧٤﴾

او لوط ته ورکړی وو مونږ ده ته حکم (نبوّت) او پوهه، او نجات ورکړی وو مونږ دغه (لوط) ته له (خلقو د) کلي هغه چې وو هغوی چې کول به يې عملونه خبيث ناپاکه، بېشکه چې هغوی وو قوم د بدۍ نافرمان.

تفسير: له کلي ځخه مراد «سدوم» او بلکه د هغه ملحقات دي، د دې ځای خلق په خلاف الفطرت کارونو مبتلا وو، د دوی قصه پخوا څو ځايه تېره شوې ده.

وَاَدْخَلْنٰهُ فِيْ رَحْمَتِنَا ۭ اِنَّهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٧٥﴾

او داخل کړی وو مونږ دی په رحمت خپل کې، بېشکه دی له نېکانو ځخه دی.

تفسير: يعنې کله چې د لوط پر قوم باندې مو عذاب نازل کړ؛ نو لوط مو د خپلو ملګرو سره د خپلې مهربانۍ او رحمت په ځادر کې پټ کړ، ځو د نېکانو او بدانو عاقبت او انجام بېل بېل سره ځرګند شي.

وَنُوْحًا اِذْ نَادٰى مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿٧٦﴾ وَنَصَرْنٰهُ مِنَ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٧٧﴾

او (ياد کړه ای محمده ! قصه د) نوح کله چې غږ يې وکړ (په ښېرا د قوم خپل) پخوا (له دغو مذکورو انبياوو ـ يعنې پخوا له ابراهيم او لوط عليهما السلام ځخه)، پس قبول کړ مونږ ده ته (سوال د ده)، نو نجات ورکړ مونږ ده ته او کورنۍ د ده ته له غمه لويه (چې د طوفان وېره او د کافرانو ضرر وو). او مرسته مو وکړه له ده سره (په انتقام اخيستو د ده) له قومه هغه چې نسبت د دروغو يې کړی وو آيتونو ځمونږ ته، بېشکه دوی وو قوم بد (ناکاره)؛ نو غرق کړل مونږ دوی ټول.

تفسير: نوح عليه السلام تر نهه نيم سوو کلونو پورې خپل قوم وپوهاوه، او په دومره اوږده موده کې يې ډېرې سختۍ برداشت کړې، بالآخره په تنګ راغی، او داسې دعاء يې وکړه: ﴿اَنِّيْ مَغْلُوْبٌ فَانْتَصِرْ﴾ (٢٧ جزء، د القمر سورت (١٠) آيت، (١) رکوع)، او ﴿رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْاَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ دَيَّارًا﴾ (٢٩ جزء د نوح د سورت (٢٦) آيت (٢) رکوع)، نو الله تعالى دغه دعاء قبوله کړه، او کفار يې په طوفان غرق کړل، او نوح عليه السلام يې د خپلو ملګرو سره د طوفان له هيبته او د کفارو له ضرر رسولو ځخه صحيح او سلامت وويست، دغه قصه په مفصّل ډول پخوا تېره شوې ده.

وَدَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ اِذْ يَحْكُمٰنِ فِي الْحَرْثِ اِذْ نَفَشَتْ فِيْهِ غَنَمُ الْقَوْمِ ۚ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِيْنَ ﴿٧٨﴾ فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ ۚ وَكُلًّا اٰتَيْنَا حُكْمًا وَّعِلْمًا ۡ

او (یاد کړه ای محمده ! قصه د) داود او سلیمان کله چې حکم کاوه هغو دواړو په (دعوی او نزاع د) کښت (فصل)، کله چې د شپې ګډه شوې وه (بې له شپانه) په هغه (کښت) کې رمه د (هغه) قوم، او وو مونږ حکم د دوی ته حاضر. پس ومو پوهوه په هغه (فتوی، فیصله) سلیمان، او هر یو د دوی دواړو ته ورکړی وو مونږ حکم (نبوّت) او پوهه.

تفسیر: داود علیه السلام د الله تعالی نبي وو، سلیمان علیه السلام د ده ځوی او هم د پاک الله تعالی نبي وو، دغه پلار او ځوی ته الله تعالی پرته له نبوّته حکومت، علم، حکمت، د فهم قوت، او د فیصلو قدرت هم وربخښلی وو، سلیمان علیه السلام لا په هلکتوب کې داسې فوق العاده پخې خبرې او ښایسته ویناوې کولې، چې ټول اوریدونکي به ورته حیران پاتې کېدل.

د داود علیه السلام حضور ته داسې یوه دعوی وړاندې شوه، چې د یوه سړي په کښت (فصل) کې د نورو خلقو مېړې (ګډې) د شپې ګډې شوې وې، او د هغه کښت یې تر پښو لاندې او زیانمن کړی وو، کله چې داود علیه السلام په دغه دعوی کې غور وکړ؛ ورښکاره شوه چې د دغو مېړو قیمت د هغه نقصان سره برابر او معادل دی چې هغه کښت ته رسول شوی دی، نو داسې فیصله یې صادره کړه چې: «دغه مېړې دې د کښت خاوند ته ورکړی شي !»، سلیمان علیه السلام وویل چې ځما: «نظریه او فیصله دا ده چې: دغه د کښت خاوند دې دغه مېړې له خپله ځانه سره وساتي، او شودې دې وخوري، او د مېړو خاوند دې د کښت خدمت وکړي، تر څو چې کښت خپل ړومبي حالت ته ورسیږي، نو په دغه وخت کې دې مېړې بېرته خپل خاوند او کښت خپل خاوند ته وسپارل شي، نو په دې ترتیب او صورت سره به دواړه له نقصانه وژغورل (وساتل) شي»، داود علیه السلام چې دا فیصله واورېده؛ نو آفرین یې ورته وویل، او د خپل اجتهاد نه وګرځېد.

وَّسَخَّرْنَا مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ ۭ

او تابع کړي وو مونږ له داود سره غرونه چې تسبیح به یې ویلې، او (همداسې تابع کړي وو مونږ) مرغان هم (چې تسبیح به یې ورسره ویلې).

تفسیر: داود علیه السلام د ډېر ښه غږ او د خوږه آواز خاوند وو، د نبوّت په هغه مؤثر او اغېزناک غږ چې ده په خپل طبیعي جوش سره زبور شریف لوست، یا د پاک الله په تسبیح او تحمید کې مشغولېده؛ نو غرونو، مرغانو او نورو حیواناتو به هم د هغه د غږ په متابعت په لوستلو پیل (شروع) کاوه.

وَكُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿٧٩﴾

او وو مونږ کوونکي (د داسې کارونو).

تفسیر: یعنې تعجب مه کوه چې تیږې (ګټې) او مرغان به څرنګه تهلیل او تسبیح وایي، دغه ټول کارونه مونږ لا پخوا کړي وو، ښه ! ځمونږ د لامحدود قدرت له مخې آیا دغه خبرې څه مشکلې او مستبعدې ګڼلی کېدی شي؟ بلکه نه، نشي کېدی.

وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْۢ بَاْسِكُمْ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ شٰكِرُوْنَ ۝٨٠

او ښوولی وو مونږ دغه (داود) ته جوړول د زغرې تاسې ته، لپاره د دې چې وساتي تاسې (دا زغره ای انسانانو) له ضرره د جنګ (د دښمنانو) ستاسې، پس آیا یئ تاسې شکر کوونکي (یعنې شکر وکړئ).

تفسیر: الله تعالی د داود علیه السلام په لاس کې اوسپنه د موم په شان پسته او نرمه ګرځولې وه، ده به هغه سره تاووله او نهایتې سپکې مضبوطې او ښکلې زغرې به یې جوړولې، چې د جنګ په وخت کې به ترې کار اخیست کېده.

وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ عَاصِفَةً تَجْرِيْ بِاَمْرِهٖٓ اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ۭ

او (تابع کړی وو مونږ) سلیمان ته باد توند (تېز) چې روانېده په حکم د ده (سلیمان او رساوه به یې) ځمکې (د شام ته) هغې ته چې برکت ایښی وو مونږ په هغې کې.

تفسیر: سُلیمان علیه السلام داسې دعاء کړې وه: ﴿رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَهَبْ لِيْ مُلْكًا لَّا يَنْۢبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِيْ ۚ﴾ (٢٣ جزء د ص د سورت (٣٥) آیت (٣) رکوع)؛ نو الله تعالی هوا او پیریان د ده تابع کړي وو، سُلیمان علیه السلام داسې یو تخت تیار کړی وو، چې د دولت له اعیانو او مشرانو سره به پرې کېناسته، او ضروري لوازم او سامان به یې هم له خپل ځان سره اخیستل، بیا به هوا راتله، او هغه تخت به یې په ډېره چابکی پورته کاوه، کله چې به هغه په مناسبه اندازه له ځمکې څخه پورته کېده، بیا به هوا نرمېده او له ضرورت سره سم به کمی او زیاتی په کې پیدا کېده، لکه چې د (ص سورت په (٣٦) آیت (٣) رکوع (٢٣) جزء) کې راغلي دي: ﴿رُخَآءً حَيْثُ اَصَابَ﴾ له «یمن» څخه «شام» ته او له «شام» څخه «یمن» ته چې د یوې میاشتې لاره ده، په (٥) ګړیو (ګېنټو) کې رسېده، تعجّب دی چې د نن ورځې د عجیبو او غریبو هوایي جهازونو په زمانه کې هم ډېر منحرفین له دې ډول واقعاتو څخه انکار کوي، آیا هغه کار چې نن ورځ یې اوروپا د بخار او برق او نورو په ذریعه کولی شي، الله تعالی یې د خپل یو نبي لامله په خپل قدرت سره نشي کولی؟ بلکه کولی یې شي.

وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عٰلِمِيْنَ ۝٨١

او یو مونږ په هر شي عالمان.

تفسیر: یعنې چې چا ته څه قسم امتیاز ورکول مناسب دي، او له هوا او له نورو عناصرو څخه په څه ډول سره کار اخیستل کېدی.

وَمِنَ الشَّيٰطِيْنِ مَنْ يَّغُوْصُوْنَ لَهٗ وَيَعْمَلُوْنَ عَمَلًا دُوْنَ ذٰلِكَ ۚ

او (تابع کړي وو مونږ ده ته) ځینې له شیطانانو څخه هغه چې غوتې به یې وهلې (په سیند کې) د ده لپاره، او کول به یې (نور ډېر) کارونه بې له دې نه.

تفسیر: له شیاطینو څخه مراد سرکښ پیریان دي، دوی د سُلیمان علیه السلام له لوري مأمور وو، چې په لویو لویو سیندونو کې غوپې ووهي، او مرغلرې، جواهر او نور بحري حاصلات د هغو له تل څخه راوکاږي، او په دغو پیریانو په ودانیو او نورو عمراني کارونو کې سخت او درانه کارونه وکړي، د یوه لوی حوض په اندازه د مسو لګنونه (خانکونه) او لوی لوی دېګونه به یې پرې جوړول، چې له سره به له خپله ځایه چا نشو خوځولی، او له یوه ځایه بل ځای ته به یې پرې وړل او بارول، او لاندې باندې به یې سره کول، او له ډېرو سختو څخه سخت کارونه به یې ترې اخیستل.

وَكُنَّا لَهُمْ حٰفِظِينَ ﴿٨٢﴾

او وو مونږ دوی لره ساتونکي (له فساد څخه).

تفسير: يعني مونږ په خپل کامل قدرت دغه شياطين په داسې شان سليمان عليه السلام په قبضه او قيد کې ټينګ، مضبوط او بند ساتلي وو، چې هر څه يې غوښتل هغه به يې ورباندې د بيګار په ډول کول، او دوی له سره سليمان عليه السلام ته هيڅ يو ضرر نشو رسولی، که نه د بنيادم به څه زور او قوت وي؟ چې داسې يو شرير مخلوق په خپله قبضه کې په سختو ځنځيرونو کې بند وساتي: ﴿وَآخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي الْأَصْفَادِ﴾ (٢٣ جزء، د (ص) د سورت (٣٨) آيت، (٣) رکوع).

وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿٨٣﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَكَشَفْنَا مَا بِهِ مِنْ ضُرٍّ ۖ وَآتَيْنَاهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُمْ مَعَهُمْ رَحْمَةً مِنْ عِنْدِنَا

او (ياد کړه ای محمده ! قصه د) ايّوب چې ندا غږ يې وکړ رب خپل ته چې بېشکه زه رسېدلی دی ماته ضرر (رنځ او سختي په بدن کې) او ته ډېر مهربان يې له ټولو مهربانانو څخه. پس قبوله کړه مونږ دعاء د ده، پس لرې کړ مونږ هغه چې وو په ده باندې له (بدني او مالي) ضرره، او ورکړ مونږ دغه (ايّوب) ته اهل د ده، او په مثل د هغوی له هغوی سره په رحمت سره له نزده ځمونږ.

تفسير: أيّوب عليه السلام ته الله تعالى په دنيا کې له هر حيثه ارامي او هوسايي (راحت) ورکړې وه: ځمکه، کښت (فصل)، مال مالداري، مريان، وينځي، صالح اولاد او په زړه پورې ښځه يې ورکړې وه، أيوب عليه السلام د الله تعالى لوی شکر کوونکی بنده وو، ليکن الله تعالى دی په ابتلاء او ازموينه کې واچاوه، کښتونه يې وسوځېدل، رمې او ګلې يې تباه شوې، اولاد يې مړه شول، ټول دوستان آشنايان او خپلوان تر يې بېل شول، د ده په وجود سختې دانې وختلې، له دغومره مالونو، شتو، نوکرانو، خپلو او خپلوانو څخه يواځې د ده يوه ښځه ورسره ملګرې پاتې وه، بالآخره دغه خواره هم سترې ستومانه او زړه تنګې شوه، مګر ايوب عليه السلام همغسې چې په نعمت کې د پاک الله شکر کوونکی بنده وو، په زحمت او ابتلاء کې هم صابر پاتې شو، کله چې د ده تکليف او اذيت او د دښمنانو شماتت له حده تېر شو؛ نو دلته أيوب عليه السلام لاس په دعا شو چې: ﴿وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ﴾ همدا چې ده د خپل رب په دربار کې دا سوال وکړ؛ سمدلاسه د رحمت سيند په جوش او چپو شروع وکړه، الله تعالى ده ته د مړو اولادونو پر ځای يو په دوه اولادونه ورکړل، او د ځمکې څخه يې چينه راويسته، أيوب عليه السلام له هغې څخه اوبه وڅښلې، او هم يې ورباندې ولمبل، سمدلاسه روغ رمټ شو، او ټول تکليفونه يې لرې شول، لکه چې په حديث کې راغلی دي: د سرو زرو ملخان يې ورباندې وورول، لنډه دا چې له هر حيثه ورته د ارامتيا اسباب برابر شول.

وَذِكْرَىٰ لِلْعَابِدِينَ ﴿٨٤﴾

او نصيحت لپاره د عبادت کوونکو (هر څوک چې داسې صبر کوي؛ همداسې نتيجه به هم مومي).

تفسير: يعني په أيّوب عليه السلام د دغې مهربانۍ کېدلو په اثر بندګي کوونکو ته لوی پند او نصيحت او يو مهم يادګار پاتې شو، چې هر کله چې په کوم يو نېک بنده په دنيا کې کومه تنګسه يا مصيبت راشي، ښايي چې د ايّوب عليه السلام په شان صبر، استقامت، ثبات او استقلال وښيي، او يواځې خپل پروردګار ته دعاء او نداء وکړي؛ يقين دی چې الله تعالى به پرې د عنايت نظر وکړي، او يواځې د داسې يوې ابتلاء له ليدلو څخه نه ښايي چې څوک داسې ګومان وکړي، چې البته دغه بنده د الله تعالى په دربار کې مبغوض دی.

وَإِسْمٰعِيلَ وَإِدْرِيسَ وَذَا الْكِفْلِ ۖ كُلٌّ مِّنَ الصّٰبِرِينَ ﴿٨٥﴾

او (یاد کړه ای محمده ! قصه د) اسماعیل او ادریس او ذوالکفل، دغه ټول دي له صبر کوونکو څخه (په طاعت او مصیبت او له معصیت څخه).

تفسیر: یعنې دغه نېک بنده ګان مې یاد کړئ !، د اسماعیل او ادریس علیهما السلام ذکر پخوا له دې نه د (مریم) په سورت کې تېر شو، د «ذوالکفل» په نسبت د علماوو کرامو په نظر کې اختلاف دی، چې هغه نبي او که یو صالح سړی وو؟ ابن کثیر رحمه الله وایي چې: د قرآنکریم د سیاق نه دا څرګندیږي چې هغه نبي وو، ځکه چې د انبیاوو په ډله کې د هغه یادول وشو، او ځینې وایي چې: هغه یو صالح، عادل، او منصف پاچا وو، او «ابن جریر» په کې توقّف کړی دی.

وَأَدْخَلْنٰهُمْ فِي رَحْمَتِنَا ۖ إِنَّهُم مِّنَ الصّٰلِحِينَ ﴿٨٦﴾ وَذَا النُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادَىٰ فِي الظُّلُمٰتِ أَن لَّا إِلٰهَ إِلَّا أَنتَ سُبْحٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظّٰلِمِينَ ﴿٨٧﴾

او داخل کړي وو مونږ دوی په رحمت خپل کې (چې نبوّت او جنت دی)، بېشکه چې دوی دي له صالحانو نېکانو کاملانو. او (یاد کړه ای محمده ! قصه د) خاوند د ماهي کله چې لاړ، حال دا چې په قهر وو (په قوم خپل)، پس ګمان یې وکړ چې له سره به نشو مونږ قادر په نیولو د ده (یا ګومان یې وکړ چې له سره به تنګي نه راولو په ده)؛ پس غږ یې وکړ په تیارو کې (داسې) چې نشته بل بر حق معبود مګر ته یې (یواځې)، پاکي ده تا ته له عیبونو، بېشکه چې زه وم له ظلم کوونکو څخه (په خپلو تللو کې بې له اذن څخه).

تفسیر: یونس علیه السلام ته یې «ذا النون ـ ماهي والا» وویل، چې لنډه قصه یې دا ده، الله تعالی یونس علیه السلام د «نینوی» د ښار په طرف چې د موصل له مربوطاتو څخه دی؛ مبعوث کړی وو، چې د هغه ځای خلق له بت پرستۍ څخه منع کړي، او د حق په طرف بلنه ورکړي، مګر هغوی له سره د یونس علیه السلام خبرو ته غوږ کېنښود، بلکه ورځ په ورځ د دوی عناد اوتمرّد لا پسې زیاتېده، آخر یونس علیه السلام د هغوی په حق کې ښېرا وکړه، او دی پخپله د دوی له ناپاکو حرکاتو څخه خفه او ډېر په قهر او غضب سره له ښاره ووت، او د الله تعالی حکم ته یې انتظار ونه کړ، او له خپل قوم سره یې وعده وکړه چې درې ورځې وروسته به پر تاسې د الله تعالی عذاب نازل شي، د یونس علیه السلام د وتلو څخه وروسته د ده قوم وپوهېد، چې د نبي ښېرا بې اثره نه پاتې کیږي، او خامخا پر مونږ آفت نازلېدونکی دی، ممکن چې د عذاب څه آثار به همدوی ته ورڅرګند شوی وي، نو ځکه دوی ګرد سره وویرېدل، لوی واړه سره له حیواناتو له خپلو کورونو څخه ووتل، او په یوه ځنګل کې ننوتل، او میندې له کوچنیانو (بچو) څخه بېلی کړی شوې، او ګرد الله تعالی ته په ژړا او واویلا شول، او د دغه ښار ګردو خلقو په ډېر اخلاص او صداقت سره توبه وویسته، او ټول بُتان یې مات کړل، او د الله تعالی د اطاعت او عبادت کلک عهد یې وکړ، او د یونس علیه السلام په لټون کې شول، که چېرې مو وموند؛ نو د ده د حکم او ارشاد متابعت به کوو، نو الله تعالی هغه راتلونکی عذاب د دوی له سره ستون (واپس) کړ.

لکه چې په (١١ جزء د یونس د سورت په (٩٨) آیت (١٠) رکوع) کې یې ویلي دي: ﴿فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ آمَنَتْ فَنَفَعَهَا إِيمَانُهَا إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ ۖ لَمَّا آمَنُوا كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنَاهُمْ إِلَىٰ حِينٍ﴾.

کله چې یونس علیه السلام له خپلې قریې څخه ووت، او له یوې ډلې سره په یوې بېړۍ کې سور شو، کله چې دغه بېړۍ د سیند منځ ته ورسېده، د ډوبیدلو نښې په کې څرګندې شوې، بېړۍ چلوونکي د بېړۍ د سپکولو په چرت

(خيال) کې شو، او داسې يې غوښتل چې کوم يو سړی دې په سيند کې وغورځول شي؟ پچه (قرعه) يې واچوله، نو دغه پچه د يونس عليه السلام په نامه ووته، او دوه درې ځلې دغه وضعيت تکرار شو، خو هر ځل به د همدغه يونس عليه السلام په نامه پچه راوتله، د دغه وضعيت په ليدلو يونس عليه السلام خپل ځان سيند ته وغورځاوه، سمدلاسه يو ماهي راغی، او هغه يې ښوی (روغ) تېر کړ، الله تعالی ماهي ته حکم ورکړ، چې يونس پخپله ځېره کې محفوظ وساته، په دغه وخت کې يونس عليه السلام د الله تعالی په دربار کې داسې دعاء وکړه: ﴿لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبْحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ او په خپله خطا يې اعتراف وکړ، چې بېشکه ما تلوار وکړه، او ستا د حکم راتګ ته مې انتظار ونه کړ، او په خپل سر مې خپل امّت او د هغوی ښار پرې ښود.

بيا هغه ماهي د الله تعالی په اراده د سيند غاړې ته خپله خوله د باندې وويسته، او دی يې روغ رمټ له خپلې ځېرې څخه د باندې وغورځاوه، دی خپل قوم ته روغ او جوړ ببرته ورغی، او په خپله هم هغه مقدسه وظيفه مشغول شو.

﴿فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ﴾ الآية ـ پس ګومان يې وکړ .. الخ، يعنې داسې خيال يې وکړ چې مونږ به په دغه حرکت له ده څخه هيڅ يوه پوښتنه نه کوو.

فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ وَنَجَّيْنَٰهُ مِنَ ٱلْغَمِّ ۚ وَكَذَٰلِكَ نُنجِى ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾

پس قبوله کړه مونږ دعاء د دغه (يونس)، او نجات مو ورکړ دغه (يونس) ته له غمه (د سيند او ماهي)، او همداسې (چې يونس ته مو نجات ورکړ)؛ نجات ورکوو مونږ مؤمنانو ته.

تفسير: يعنې نجات د يونس عليه السلام سره مخصوص نه دی، هر هغه ايمان داره چې په همدغه شان مونږ وبولي، مونږ هغه ته هم له بلّياتو څخه نجات ورکوو، په احاديثو کې د دې دعاء ډېر فضيلت راغلی دی، او امّت د سختيو او مصيبتونو په وخت کې تل دغه دعا ډېره مجربه موندلې ده.

وَزَكَرِيَّآ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ رَبِّ لَا تَذَرْنِى فَرْدًا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْوَٰرِثِينَ ﴿٨٩﴾

او (ياد کړه ای محمده ! قصه د) زکريا کله چې يې غږ وکړ رب خپل ته (داسې چې) ای ربه ځما ! مه پرېږده ما يواځې (بې اولاده)، او ته يې غوره له (ګردو) وارثانو نه.

تفسير: يعنې داسې اولاد راکړې چې وروسته له ما د قوم ديني خدمت وکړی شي، او ځما د دغو تعليماتو د خورولو د عهدې څخه ووتلی شي، لکه چې د مريم عليه السلام د سورت په تفسير کې مو ليکلي دي، کله چې زکريّا عليه السلام داسې وارث غوښته چې په: ﴿يَرِثُنِى وَيَرِثُ مِنْ ءَالِ يَعْقُوبَ﴾ (د مريم (١) رکوع) کې مذکور دی، نو د هغه په تناسب سره يې الله تعالی هم په دغه نامه سره ياد کړ.

فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ وَوَهَبْنَا لَهُۥ يَحْيَىٰ وَأَصْلَحْنَا لَهُۥ زَوْجَهُۥٓ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْخَيْرَٰتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا ۖ وَكَانُوا۟ لَنَا خَٰشِعِينَ ﴿٩٠﴾

پس قبوله کړه مونږ دعاء د دغه (زکريّا) او ومو بابنه دغه ته يحيى، او صالحه مو کړه ده ته ښځه د ده (د ولادت لپاره، له شنډوالي څخه وروسته)، بېشکه دغه (مذکور انبياء) وو دوی چې تلوار به يې کاوه په (کولو د نېکو عملونو او طلب) د خيراتونو، او بللو به يې مونږ له جهته د مينې (د ثواب)، او له جهته د وېرې (د عذاب)، او وو دوی خاص مونږ ته ويريدونکي متواضع.

تفسير: يعني الله تعالى د زكريّا عليه السلام شنډه ښځه پخپل فضل او كرم سره د ولادت وړ (لايق) او قابله وګرځوله، ځينې متصوفين وايي: هر څوك چې پاك الله د خوف يا د توقع له امله ياد كړي؛ هغه اصلي محب نه دى، له دغه آيت نه د دغې مفكورې غلطي څرګندېږي، له انبياوو څخه پورته د الله تعالى محبّ څوك كېدى شي؟.

وَالَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا وَجَعَلۡنَٰهَا وَٱبۡنَهَآ ءَايَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿٩١﴾

او (ياد كړه اى محمده ! قصه د) هغې (جينى مريمې) چې پاك يې ساتلى وو اندام خپل (له نكاح او له سفاح څخه)، پس پو كړ مونږ په (ګرېوان د) هغې كې له روحه خپله، او ومو ګرځوله دغه (مريمه) او ځوى د دې (عيسى) دليل (د كامل قدرت خپل) لپاره د خلقو.

تفسير: يعني د بي بي مريمې رضي الله تعالى عنها په نس كې چې له نكاح او سفاح او له حلالو او حرامو دواړو طريقو څخه محفوظه وه، عيسى عليه السلام يې چې په «روح الله» سره ملقّب دى؛ پيدا كړو.

إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَأَنَا۠ رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُونِ ﴿٩٢﴾

په تحقيق دا ملّت (د توحيد ملّت او د اسلام دين) ستاسې ملّت يو دى (چې په دغه دين متفق دي ټول انبياء)، او زه رب ستاسې يم پس عبادت كوئ ځما (خاص نه د بل).

تفسير: يعني الله تعالى يو دى، او ستاسې د دين اصول هم يو دي، ټول انبياء عليهم السلام هم د دين په اصولو كې داسې سره يو دي؛ چې هر هغه تعليم چې يو يې وركوي، هغه بل هم د هغه تصديق او تاييد كوي، كوم اختلافات چې په فروعو كې د زمانې او مكان د اختلاف له كبله منځ ته راځي، هغه عين مصلحت او حكمت دى، مذموم اختلاف هغه دى چې په اصولو كې وي، نو ځكه لازمه ده چې ټول سره په ګډه د الله جل جلاله بندګي وكړو، او په كومو اصولو كې چې ټول انبياء سره متّفق دي؛ هغه ټول په يو طاقت ټينګ ونيسو.

وَتَقَطَّعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡۖ

او ټوټې ټوټې كړ (دغو پخوانيو امتونو) كار (د دين) خپل په منځونو خپلو كې.

تفسير: مونږ خو د اصولو په اعتبار ټولو ته يو دين وركړى وو، خو خلقو په كې پخپله اختلاف پيدا كړ، او هغه دين يې سره ټوټې ټوټې كړ، او پخپلو كې يې سره نفاق او شقاق پيدا كړ.

كُلٌّ إِلَيۡنَا رَٰجِعُونَ ﴿٩٣﴾

ټولې فرقې مونږ ته راتلونكي دي (نو جزا به وركړو دوى ته).

تفسير: يعني كله چې ځمونږ حضور ته راشي؛ نو ټول اختلافونه به هلته سره فيصله شي، هر يوه ته به د هغه د عملونو جزاء وركړى شي، چې تفصيل به يې په راتلونكي آيت كې راشي.

فَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَا كُفۡرَانَ لِسَعۡيِهِۦ وَإِنَّا لَهُۥ كَٰتِبُونَ ﴿٩٤﴾

پس هر څوك چې عمل وكړي له نېكو (كارونو) څخه حال دا چې دى مؤمن وي؛ نو نشته بې قدري ضياع د كوښښ د ده (او زيار «محنت» يې نه ضايع كيږي)، او بېشكه مونږ دغه (كوښښ د ده) لره ليكونكي يو.

تفسير: يعني د هيڅا محنت او زيار نه ضايع کيږي، د نېکۍ خوښه مېوه به مؤمنانو ته ورسيږي، هيڅ يوه نيکي به هم نه ضايع کيږي، هر وړوکی او لوی عمل مونږ د دوی په عملنامه کې ليکو، چې د قيامت په ورځ کې به پرانستلی شي.

وَحَرٰمٌ عَلٰى قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَآ اَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ﴿٩٥﴾ حَتّٰٓى اِذَا فُتِحَتْ يَاْجُوْجُ وَمَاْجُوْجُ وَهُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ يَّنْسِلُوْنَ ﴿٩٦﴾

او حرام (منع) دی پر (اهل د) هر هغه کلي چې هلاک کړي دي مونږ دوی لره (دا کار) چې بېشکه دوی به نه راځي بېرته (مونږ ته د جزاء يا چې راشي بېرته دنيا ته د توبې او معذرت لپاره). تر هغه پورې کله چې پرانستلي شي يأجوج او مأجوج (او دېوال يې له مخه لرې شي)، او دوی به له هرې لوړې (اوچتې) ځخه ځړندي راکوزيږي.

تفسير: يعني هغه کفار چې د هغو لپاره تالا کېدل او هلاک او تباهي مقدّره شوې ده؛ نو هغوی له سره له خپل کفر او عصيان ځخه لا س نه اخلي، او نه توبه وباسي، او نه د الله تعالى په طرف رجوع کوي، او نه کله هغوی بېرته دنيا ته په دې مقصود راوستل کېدی شي چې دلته د خپلو تېرو تقصيراتو تلافي وکړي؛ نو هغوی ځرنګه د خپل خلاصون او نجات توقع کولی شي، د هغوی لپاره خو يواځې يو وخت باقي دی، کله چې هغوی دويم ځلي ژوندي او د پاک الله په طرف رجوع کوي، او پر خپلو تجاوزاتو او تقصيراتو معترف کيږي، او د ندامت او پښېمانۍ اظهار کوي؛ مګر په هغه وخت کې به پښېماني هيڅ په کار ورنشي، دغه د قيامت وخت دی، چې د هغه له نژدې مبادیو ځخه يو د «يأجوج مأجوج» خروج دی، د عيسى عليه السلام له نزول ځخه وروسته به د «ذوالقرنين» سد ماتوي، او د يأجوج مأجوج لښکر به لوی هجوم او يرغل (حمله) راوړي، دغه خلق به د خپل کثرت او ازدحام له کبله په ټولو لوړو (اوچتو) او ژورو (ښکته) داسې خواره شي، چې ځوک هرې خوا ته سترګې اړوي؛ نو دوی به وينې، د دوی دغه بې مثاله سيلاب او هجوم به په داسې شدّت ځړندی را روان وي، چې هيڅ يو انساني قدرت به د دوی مخه نشي نيولی، او داسې به ښکاري چې د هرې يوې غونډۍ او هر يوه غره نه د دوی لښکرې رابنوييږي او رارغړي، د «الكهف» د سورت په آخر کې مونږ د دې قوم په باب څه ليکلي دي؛ هلته دې وکتلی شي.

وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَاِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ اَبْصَارُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا بَلْ كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٩٧﴾

او نژدې شوه وعده حقه (قيامت)، پس ناڅاپه قصه دا ده چې ټېغې (بوټې) به وتلې پاتې وي سترګې د هغو کسانو چې کافران شوي دي، (او وايي به) ای هلاکه ځمونږ (را حاضر شه دغه دې وخت دی !) په تحقيق وو مونږ په غفلت کې له دغې ورځې (له حقې وعدې په دنيا کې)، بلکه وو مونږ ظالمان (په خپل ځان په کفر سره).

تفسير: يعني کله چې د جزاء او سزا وعده رانژدې شي، په دغه وخت کې به د منکرانو سترګې د هيبت او وېرې له شدّته رډې بډې، ټېغې او بوټې ختلې وي، او په خپل جهل او غفلت به د افسوس او حسرت نه منګولې مروړي، او وايي به: افسوس چې مونږ له داسې لويې ورځې ځخه ولې بې خبره او غافل پاتې شوي وو، چې په دغسې سختيو او مصيبتونو کې مبتلا او اخته شو، کاشکې مونږ په دنيا کې له دغه آفت ځخه د نجات څه فکر کړی وی.

إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ۖ أَنتُمْ لَهَا وَارِدُونَ ﴿٩٨﴾

بېشكه تاسې او هغه (بُتان، معبودان، شيطانان) چې عبادت يې كوئ تاسې بې له الله څخه خس (خاشاك) د دوزخ يئ، تاسې (له معبودانو خپلو سره) دې دوزخ ته ننوتونكي يئ.

تفسير: يعنې تاسې ټول به له دغو خپلو باطلو معبودانو سره د دوزخ خس او خاشاك شئ ! لكه چې د البقرې سورت (٢٤) آيت، ٣ ركوع كې فرمايي: ﴿وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ﴾ او وروسته د دې آيت نه فرمايي: ﴿لَوْ كَانَ هَٰؤُلَاءِ آلِهَةً مَّا وَرَدُوهَا﴾ كه چېرې دغه بُتان او معبودان چې تاسو بې د الله تعالى څخه نيولي دي په رښتيا سره آلهه واى؛ نو جهنّم ته به نه ننوتى.

نو دا واضح او څرګنده شوه، چې د چا څخه چې دوى د خير هيله او توقّع كوله، كله چې دوى خپل ځان نشي خلاصولى؛ نو د دوى حفاظت به څنګه وكړي.

تنبيه: له ﴿وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ﴾ څخه مراد دلته اصنام او هغه معبودان مراد دي چې هغوى خلقو ته د شرك او بدعت دعوت وركوي، او يا د عابدانو په عبادت باندې راضي او خوښ وي، يعنې كه په دغو فرضي معبودانو كې د اور د دخول څخه كوم مانع نه وي؛ نو هغوى به هم له خپلو عابدانو سره يو ځاى د دوزخ خس او خاشاك كيږي، باقي «عيسى المسيح، عزير، او ملائكة الله عليهم السلام» چې دوى هم د ډېرو خلقو له پلوه معبودان درول شوي دي، نو د دغو ذواتو مقبوليت او وجاهت مانع دى چې «معاذ الله» په دغه عموم كې شامل كړى شي، له دې كبله يې تصريحًا وويل: ﴿إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا الْحُسْنَىٰ أُولَٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ﴾.

لَوْ كَانَ هَٰؤُلَاءِ آلِهَةً مَّا وَرَدُوهَا ۖ وَكُلٌّ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٩٩﴾

كه چېرې وى دغه (بتان، معبودان په رښتيا سره) نو نه به وو داخل شوي په دې دوزخ كې او دا ټول (بتان او بت پرستان) به په دې دوزخ كې تل پراته وي.

تفسير: يعنې دغه ټول عابدان او باطل معبودان به تل ترتله په دوزخ كې پراته وي.

لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾

وي به دغو (عابدانو) ته په دغه (دوزخ) كې چغې سوري، او دوى به په دې دوزخ كې نه اوري هيڅ (شى د دوزخ د شورماشور له سببه).

تفسير: يعنې د هول او هيبت له شدّت او د عذاب له سخت تكليف او د خپلو چغو او كريكو له شورماشور څخه به هيڅ شى نه اوري، له ابن مسعود رضي الله تعالى عنه څخه روايت دى، چې يو داسې وخت به راشي چې يو دوزخي به د اوسپنې په يوه صندوق كې بند كړى شي، او له پاسه به پرې مېخونه ټك وهل شي، او د دوزخ په اعماقو (ژورو) كې به واچولى شي، نه يايي چې په دې وخت كې دغه هيڅ نه اوربدل د دغه دوزخي حال وي، د دې آيت د نزول په اثر مشركان سخت خفه شول، نو اعتراض يې وكړ چې: آيا عُزير او مسيح او ملائك چې ځينې يې معبودان دروي؛ هم په دوزخ لويږي؟ نو دغه مبارك آيت نازل شو:

إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا الْحُسْنَىٰ أُولَٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ ﴿١٠١﴾

بېشكه هغه كسان چې رومبى شوې ده دوى ته له (جانبه د) مونږه نېكه مرتبه (سعادت، نجات)؛ دغه كسان به له دې دوزخ څخه لرې كړى شوي وي.

تفسير: يعني يو ځل به د صراط له پل تيريږي، بيا به تل له دوزخ څخه لرې اوسيږي، او د تېرېدلو په وخت کې به هم د دوزخ له تکليف، الم او درد څخه بيخي خلاص وي.

لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا ۚ وَهُمْ فِي مَا اشْتَهَتْ أَنْفُسُهُمْ خَالِدُونَ ﴿١٠٢﴾

نه به اوري دغه (جنتيان) غږ د (لمبو د) دوزخ، او دوی په هغو نعمتونو کې چې غواړي يې نفسونه د دوی؛ تل به وي.

تفسير: يعني جنتيان به له دوزخ څخه دومره لرې وي، چې د دوزخ د اور ډېر يو نری غږ هم د دوی غوږو ته نه رسيږي، او په نهايت عيش او ارامۍ سره به په جنّت کې مزې کوي، او له هر راز نعمتونو څخه به دوی خوند اخلي.

لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ وَتَتَلَقَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ۖ هَٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ ﴿١٠٣﴾

نه به خفه (غمجن) کوي دوی (جنتيان) وېره ډېره لويه (هم لکه آخره نفخه، او يا د دوزخ خوا ته روانېدل)، او ملاقات به کوي له دوی سره پرښتې (استقبالا، او وايي به) دا ورځ د (ثواب) ستاسې ده، هغه چې وئ تاسې چې وعده درسره کړی شوې وه (په دنيا کې).

تفسير: يعني په هغه ورځ چې ټول مخلوق په سخته وېره او هيبت کې وي؛ الله تعالى به ټول جنتيان له غم او خفګان څخه محفوظ وساتي، يعني له قبرونو څخه د نېکانو د راپاڅېدلو يا جنّت ته د ننوتلو په وخت کې به پرښتې د هغوی استقبال کوي، او ورته به وايي: د هغه دائمي مسرّت او راحت وعده چې له تاسې سره کړی شوې وه؛ نن د هغې د پوره کېدلو وخت راغلی دی.

يَوْمَ نَطْوِي السَّمَاءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ۚ كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ ۚ وَعْدًا عَلَيْنَا ۚ إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ ﴿١٠٤﴾

(ياد کړه ای محمده !) هغه ورځ چې راونغاړو اسمان لکه نغښتل د سند، طومار لپاره د ليکل شويو کاغذونو، لکه چې ابتداء کړی وو مونږ اول پيدايښت؛ بيا اعاده کوو يې، وعده ده په مونږ، بېشکه مونږ يو کوونکي (د هغه موعود کار).

تفسير: ځينو مفسّرينو د دې آيت ترجمه داسې کړې ده: او ياده کړه هغه ورځ چې راونغاړو مونږ له بېخه دا اسمان لکه نغښتل د صحيفې لپاره د حفظ د هغو مکتوباتو چې په دې کې دي، لکه چې شروع کړې وه مونږ د اول پيدا کولو د دې عالم له عدم محض څخه چې ډېر آسان وو؛ اعاده به يې کړو بيا، او دا مړي به ټول ژوندي کړو، دا وعده کړې ده مونږ وعده لازمه په خپل ځان، نو بېشکه مونږ کوونکي يو د هغه کار چې وعده مو کړې ده، يعني کله چې قيامت راشي؛ نو اسمانونه به داسې ونغاړل شي لکه چې د اسنادو او وثائقو ليکلي شوي کاغذونه سره نغښتلي کيږي.

وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ ﴿١٠٥﴾

او خامخا په تحقيق ليکلي دي مونږ په زبور کې وروسته له نصيحت څخه دا خبره چې بېشکه دغه ځمکه مالکان کيږي به يې (بالآخر هغه) بندګان ځما چې نېکان دي (او په ميراث به يې وړي).

تفسير: يعني له کاملو وفادارو بندګانو سره الله تعالى وعده کړې ده، چې د هغوی په برخه کې د دنيا او آخرت بری او کاميابي ده، او دوی د دې دنيا او د جنت د مځکې وارثان ګرځول کيږي، لکه چې د «الأعراف سورت په (١٥)

ركوع» کې يې ويلي دي: ﴿إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ﴾ او د «المؤمن سورت په (۶) ركوع» کې راغلي دي: ﴿إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ﴾ او د «النور سورت په (۷) ركوع» کې يې ويلي دي: ﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ﴾ الآية.

دا داسې حتمي او قطعي وعده ده چې الله تعالى د هغې خبر په خپلو شرعيه او قدريه وو كتابونو كې وركړې ده (په لوح محفوظ) او (أم الكتاب) كې يې هم دغه وعده درج كړې ده، او د انبياوو عليهم السلام په ژبو يې پرله پسې مكرّرًا د هغه اعلان كړى دى، د داود عليه السلام په كتاب (زبور په ۳۷ او ۲۹) كې راغلي دي چې: «صادقان به د ځمكې وارثان وي»، لكه چې د دې محمدي امّت كامل وفادار او صادق بندګان تر يوې اوږدې مودې پورې د ځمكې وارثان وو، دغو صالحانو، صادقانو په شرق او غرب كې اسماني سلطنت جاري او قائم كړ، هر چېرې يې د عدل او انصاف بيرغونه ودرول، د حق دين غږ يې په ټوله دنيا كې پورته كړ، او د نبي كريم صلى الله عليه وسلم دغه وړاندوينه (پېشګويي) د دوى په لاسونو پوره شوه: «إن الله تعالى زوى الأرض فرأيت مشارقها ومغاربها، وإن أمتي سيبلغ ملكها ما زوى لي منها».

إِنَّ فِي هَٰذَا لَبَلَاغًا لِّقَوْمٍ عَابِدِينَ ﴿١٠٦﴾

بېشكه په دې (تېر بيان كې) خامخا (سبب د) وصول د مطلب دى لپاره د قوم عبادت كوونكو.

تفسير: يعنې د دې قسم بشارتونو له اوږدلو څخه د يو الله جل جلاله عبادت كوونكي خپل مطلب ته رسيږي، يا دغه لوى قرآن چې پر داسې عظيمو بشارتونو او هدايتونو مشتمل دى، د عبادت كوونكو لپاره پوره ګټه او پوره كاميابي ده، يا په تحقيق سره په دې قرآن كې خامخا كفايت دى په دخول د جنت كې لپاره د هغه قوم چې عمل كوونكي دي په دې سره.

وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ ﴿١٠٧﴾

او نه يې لېږلى مونږ ته (اى محمده !) مګر رحمت لپاره د (ټولو) عالميانو.

تفسير: يعنې ته خو د ټول جهان لپاره د رحمت په حيث مبعوث شوى يې، كه كوم بدبخت پخپله له دې عمومي رحمت څخه ګټه نه اخلي؛ نو دا خو د هغه خپل قصور دى، د لمر د رڼا او تودوخې فيض هر طرف ته رسيږي، خو كه كوم سړى پخپل ځان د رڼا ټول ورونه، كړكۍ او سوري بند كړي؛ نو دا به د ده خپله ناپوهي او لېونتوب وي.

قُلْ إِنَّمَا يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ فَهَلْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ﴿١٠٨﴾

ووايه (اى محمده ! كفّارو ته) بېشكه خبره همدا ده چې، وحي كولى شي ماته داسې: بېشكه همدا خبره ده چې معبود ستاسې معبود (الله تعالى) يو دى، آيا پس يئ تاسې اسلام راوړونكي؟ (الله ته غاړه ايښودونكي بلكه مسلمانان شئ !).

تفسير: دا د رسالت سره د توحيد بيان شو، يعنې له هغه لوى رحمت سره چې ته راغلى يې؛ د هغه لب لباب كامل توحيد دى، او دا داسې صاف او واضح مضمون دى چې د هغه په قبول كې انسان ته نه ښايي چې لږ شان هم وړاندې او وروسته شي، پس آيا تاسې دغه حكم منئ، او د حق په مقابل كې د غاړې ايښوولو لپاره تيار يئ؟ كه تيار يئ؛ فبها ونعمت، كه نه ما خپل تبليغ وكړ، خپله غاړه مې خلاصه كړه، تاسې پخپله خپل انجام او خاتمې ته فكر وكړئ !.

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ آذَنْتُكُمْ عَلَىٰ سَوَاءٍ ۖ وَإِنْ أَدْرِي أَقَرِيبٌ أَمْ بَعِيدٌ مَا تُوعَدُونَ ﴿١٠٩﴾

پس که وګرځېدل دوی (له ایمان څخه)؛ نو ووایه (ای محمده !) چې خبروم زه تاسې (په هغه شي چې زه پرې مامور یم) په برابرۍ سره، او نه پوهېږم زه چې آیا نژدې دی که لرې دی هغه څه چې تاسې سره یې وعده شوې ده (چې دنیوي عذاب یا اخروي عقاب دی).

تفسیر: که د حجّت د دومره اتمام نه وروسته هم تاسې حق نه منئ، او د توحید په طرف نه راځئ؛ نو ما تاسې ته خبر درکړی دی، چې اوس زه له تاسې څخه بېزار یم، تاسې له مانه بېل او زه له تاسې څخه بېل یم، ستاسې عمل له تاسې سره مل، او ځما عمل له ما سره مل دی، او هر یو به د خپل خپل عمل نتیجه وګوري.

ځینو مفسّرینو د دې آیت داسې ترجمه کړې ده: پس ووایه دوی ته چې: خبر مې کړئ په دې، په داسې حال کې چې برابر یو سره زه او تاسې په دې پوهه کې، چې مې نه دی پټ کړی هیڅ شی له تاسې نه، یا غږ مې دربانديې وکړ د جنګ چې ورته تیار شئ !.

إِنَّهُ يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ الْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُونَ ﴿١١٠﴾

بېشکه چې دغه (الله) ته معلوم دي ښکاره له خبرو، او معلوم دي (الله ته) هغه چې پټوئ يې تاسې (له حسد کینې او نورو هم).

تفسیر: یعنې یوائې الله تعالی په هره یوه پټه او ښکاره خبره پوهیږي، او په دې هم پوهیږي چې په کومه ګناه څه سزا او په کوم وخت کې ورکړی شي.

وَإِنْ أَدْرِي لَعَلَّهُ فِتْنَةٌ لَكُمْ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١١١﴾

او نه پوهېږم زه ښایي چې دغه تأخیر د عذاب ازموینه وي تاسې لره، او نفع وي تر یوه وخته (د مرګه) پورې.

تفسیر: یعنې د عذاب په تأخیر کې امکان لري چې ستاسې امتحان او ازموینه وي، چې ګوندې په دې موده کې څه فکر او تأمل وکړئ، او له خپلو بدو کارونو او شرارتونو څخه لاس واخلئ، یا تش مهلت مقصد وي، چې تر یوې مودې پورې په دنیوي عیش او عشرت کې مشغول اوسئ، او د خپل شقاوت پیمانه مو ښه ډکه کړئ.

قَالَ رَبِّ احْكُمْ بِالْحَقِّ ۗ

وویل (رسول): ای ربه ځما ! حکم وکړه په منځ ځمونږ کې په حقه سره.

تفسیر: یعنې لکه څنګه چې د هرې معاملې فیصله له انصاف سره سم ستا شان دی؛ نو له هغې سره سم ځما او ځما د قوم په منځ کې ژر تر ژره فیصله وکړه.

وَرَبُّنَا الرَّحْمَٰنُ الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴿١١٢﴾

او رب ځمونږ ډېر مهربان دی، مرسته ترې غوښتل شوې ده په هغو خبرو چې بیانوئ يې تاسې (او وایئ چې ولې نه معذّب کیږو او نور؟).

تفسير: يعني يواځې له هغه ځنې مونږ خپله فيصله غواړو، او د کفّارو د خرافاتو په مقابل کې له ده ځخه مرسته غواړو، او په همدې شان دعاګاني نورو انبياوو عليهم السلام هم کولې، لکه چې د (٩ جزء د الأعراف سورت په (٨٩) آيت (١١) رکوع) کې راغلي دي: ﴿رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنْتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ﴾ ځکه چې دوی په خپل حقّانيت او صداقت او د الله تعالى په عدل او انصاف باندې پوره باور او اعتماد درلود.

تمّت سورة الأنبياء ولله الحمد والمنّة.

سُورَةُ الحَجِّ

«د (الحج) سورت مدني دی، پرته له (۵۲ نه تر ۵۴) آیتونو پورې چې د مکې او مدینې په منځ کې نازل شوي دي، (۷۸) آیتونه او (۱۰) رکوع لري، په تلاوت کې (۲۲) او په نزول کې (۱۰۳) سورت دی، د النّور له سورت څخه وروسته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ ﴿١﴾ يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّا أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَىٰ وَمَا هُم بِسُكَارَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ ﴿٢﴾

ای خلقو ! ځان وساتئ (وویرېږئ) تاسې له (عذابه د) رب خپل، بېشکه چې زلزله د قیامت (یو) شی دی ډېر لوی. په هغه ورځ چې وویني تاسې هغه چې غافله به شي هره ټی ورکوونکې (د دې ورځې له هیبت څخه) له هغه وړوکي چې ټی ورکوي هغه ته، او وبه غورځوي هر مېرمن حامله (امیدواره) حمل (بچی) خپل، او وبه ویني خلق بې هوشه (له ډېر هیبت نه) حال دا چې نه به وي په واقع سره دوی بې هوشه، ولیکن عذاب د الله دی ډېر سخت (نو د قیامت د ورځې له وېرې نه به بې هوشه وي).

تفسیر: د قیامت عظیم الشأنې زلزلې دوه دي: یوه عین د قیامت د قیام په وخت کې یا له دویمې نفخې څخه وروسته، بله د قیامت د قیام څخه څه وړاندې چې د مغرب له خوا د لمر له ختلو څخه پخوا واقع کیږي، او د قیامت له علاماتو څخه ده، که دلته تر دویمه زلزله مراده وي؛ نو آیت به په خپله ظاهري معنی پاتې شي، او که اوله مراده شي؛ نو دواړه احتماله په کې شته:

لومړی دا چې حقیقتًا زلزله وشي، او ټی ورکوونکې (لنګې) یا بلاربې ښځې په خپل هم هغه هیئت محشورې شي، یا به له زلزلې څخه د هغه ځای احوال او شدائد مراد وي، او ﴿يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ﴾ الآیة ـ دې په تمثیل حمل کړی شي، یعنې دومره سختي، هیبت او وېره به وي، که شودې ورکوونکې (لنګې) ښځې موجودې وي؛ نو له ډېرې وېرې او هیبت نه به خپل ټی رودونکي ماشومان هېر کړي، یا به د بلاربو ښځو بچیان ولوېږي، په دغه وخت کې به خلق دومره بې سده او مدهوشه وي؛ چې لیدونکي به وربانديې داسې ګمان کوي، چې د شرابو په نشو سره بې سده او مخمور دي، حال دا چې په هغه ځای کې به نشه چېرې وي، د الله تعالی د عذاب تصوّر او د اهوالو او شدائدو سختي به هوش، حواس او سد له مینځه یوسي.

تنبیه: که دغه وېره ټولو ته عامه وي؛ نو په ﴿لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ﴾ (چې د نیکانو په هکله وایي: چې نه به غمجن کوي دوي لویه ویره دقیامت)، کې به نفي د اکثرو احوالو په اعتبار او دلته به اثبات د لږو ساعتونو په اعتبار واخیستل شي، او که دا آیت د اکثرو په حق کې وي، او ټولو ته شامل نه وي؛ نو بیا له سره هیڅ اشکال نشته.

وَمِنَ النَّاسِ مَن يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطَانٍ مَّرِيدٍ ﴿٣﴾

او ځینې له خلقو څخه هغه دي چې جګړه کوي په (حق او خبرو د) الله کې بې له پوهې (له خپلې ناپوهی) او متابعت کوي د هر شیطان سرکښ.

تفسير: يعني دا خلق په هغو خبرو کې چې الله تعالى يې خبر راکوي؛ ولې جګړې کوي؟ او کاږه بحثونه په کې کوي؟ او خپله جهله او بې خبرۍ عجيبې احمقانه شبهې خوروي، لکه چې په قيامت، بعث بعد الموت، جزاء، سزا او نورو د دوی لوی اعتراض دا دی: کله چې انسان ومري، او بيخي وروست شي، او هډوکي يې ذرې ذرې شي؛ نو عقل ته به څنګه پرېوځي چې دی به بيا ژوندی شي، او خپل هم هغه رومبنی اصلي حالت ته به بېرته وګرځي؟.

﴿وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطَٰنٍ مَّرِيدٍ﴾ يعني هر جنّي او انسي شيطان چې دی خپل ځان ته راوبولي؛ سمدلاسه هغه پسې روانيږي، ګواکې دی د ګمراه کېدلو داسې کامل استعداد لري، چې هر يو شيطان يې راوبولي؛ دی ورته لبيک وايي.

كُتِبَ عَلَيْهِ أَنَّهُۥ مَن تَوَلَّاهُ فَأَنَّهُۥ يُضِلُّهُۥ وَيَهْدِيهِ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ﴿٤﴾

ليکل شوي دي په (حق او قسمت د) دغه (شيطان په ازل کې) چې بېشکه شان دا دی چې: هر څوک چې دوستي او متابعت وکړي د شيطان؛ پس بېشکه (دا شيطان) ګمراه کوي دغه (تابع خپل)، او لاره ښيي ده ته (بيايي يې) عذاب د دوزخ ته.

تفسير: يعني د «مريد» په متعلّق دا خبره غوټه او فيصله شوې ده، څوک چې د ده ملګرتيا او متابعت کوي؛ نو شيطان خپل دغه ملګری او تابع هم له خپل ځان سره ډوبوي، او داسې يې ګمراه کوي، چې بې له دوزخ له غورځولو يې نه پرېږدي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ مِّنَ ٱلْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ۚ وَنُقِرُّ فِى ٱلْأَرْحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا۟ أَشُدَّكُمْ ۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرْذَلِ ٱلْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا ۚ وَتَرَى ٱلْأَرْضَ هَامِدَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنۢبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيجٍ ﴿٥﴾

ای خلقو ! که يې تاسې په شک کې له بعث څخه (چې خلق به بيا ژوندي پورته کيږي، اول خپل حال ته وګورئ !) پس بېشکه چې مونږ پيدا کړی دي مونږ (نېکه د) تاسې له خاورې، بيا (مو پيدا کړه اولاده د آدم) له يوه ځاځکي (منې) څخه، بيا له (يوې توتې) کلکې پرنډې وينې، بيا له يوه پوتې غوښې تام الخلقة (چې پوره شکل يې پيدا کړی شوی وي)، او ناقص الخلقة (چې پوره شکل يې پيدا کړی شوی نه وي)، لپاره د دې چې بيان کړو مونږ تاسې ته (خپل کامل حکمت او قدرت)، او ثابت پرېږدو مونږ په ارحامو کې هغه شی چې اراده وکړو (د هغه د اثبات) تر نېټې معلومې پورې (چې د زېږېدلو وخت دی)، بيا راوباسو مونږ تاسې (له ګېډو د ميندو ستاسې، حال دا چې) طفل (وئ)، بيا (پالو تاسې) تر هغه پورې چې ورسېږئ تاسې کمال او قوّت خپل ته (جسمًا او عقلاً)، او ځينې له تاسې څخه هغه دي چې وفات کولی شي (له رشد او قوت څخه وروسته يا پخوا)، او ځينې له تاسې څخه هغه دي چې رد کولی شي (يعني ژوندې وي) تر ناکاره عمره پورې، لپاره د دې چې نه پوهيږي وروسته له پوهې په هيڅ شي (د خپلو ټولو اقوالو د بېکاره کېدلو له کبله)، او وينې به ته ځمکه وچه شاړه، نو هر کله چې نازلې کړو مونږ په دغې (وچې مړې شاړې ځمکې داسمان له خوا) اوبه؛ نو وخوځيږي او ډډه شي او زرغونه کړي له هر قسم نباتاتو څخه ښايسته تاند، تنکی تېغ (د وښو په شنه کېدلو) سره.

تفسير: يعني كه كفّار او د بعث بعد الموت منكرين په دغه شك او شبهه كې لويدلي وي، چې له ذرې ذرې كېدلو څخه وروسته به بيا څرنګه ژوندي راپورته شي؟ نو خپل ړومبني پيدايښت ته دې غور او فكر وكړي، چې په ابتداء كې څرنګه پيدا شوى دى؟ يعني اول ستاسې پلار آدم عليه السلام مې له خاورې څخه پيدا كړ، بيا مو تاسې د مني له څاڅكي څخه پيدا كړئ ! يا دا مطلب چې له خاورې څخه مې خواړه پيدا كړل چې هغه څو منازل او مدارج تېروي، بيا نطفه كيږي، بيا هم د نطفې د څو منازلو او مدارجو له تېرولو څخه وروسته ستاسې تشكيل او تخليق مينځ ته راځي، له نطفې څخه پرنډه وينه او له وينې څخه د غوښې ټوټه جوړيږي، او بيا د غوښې په دغې ټوټې باندې داسې وخت راځي، چې د بني آدمو پوره شكل، نقشه لاسونه، پښې، سترګې، پوزه او نور اندامونه جوړيږي، او يو وخت داسې وي، چې تر دغه وخته پورې هيڅ شى په كې نه وي جوړ شوي، يا يې دا مطلب چې د ځينو پيدايښت مكمل كيږي، او د ځينو هم هغسې ناقص پاتې كيږي، او په هم هغه ناقص صورت لوييږي، يا داسې دې وويل شي چې ځينې بې عيبه او ځينې عيبجن كيږي.

﴿لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ﴾ دپاره ددى چې بيان كړو مونږ تاسې ته چې پخپله ستاسې اصل څه وو؟ او د څو ورځو د تېرېدلو څخه وروسته څرنګه په انساني صورت سره جوړ او مكمّل جوړ شوئ، كه په دې وپوهېدئ؛ نو د نورو حقايقو انكشاف هم كېدى شي، او د بعث بعد الموت په امكان باندې هم پوهېدلى شئ.

﴿وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ﴾ الآية ـ او ثابت بريږدو مونږ په أرحامو كې هغه شې چې اراده وكړو دهغه د ثابت پاتې كيدو، يعني څومره موده چې د هرچا لپاره د مور په رحم كې اوسېدل او تقرّر لازم وي؛ هغومره يې هلته ساتو، لږ تر لږه (٦) مياشتې او زيات له زياته دوه كاله يا څلور كاله على اختلاف الأقوال.

﴿ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا﴾ الآية ـ بيا راوباسو تاسې له ګېډو د ميندو په داسې حال كې چې ماشوم وئ، يعني لكه څرنګه چې مو په ګېډه كې ډېر زيات مدارج طي كړي دي، همداسې د زېږېدلو څخه وروسته به هم په تدريج سره ډېر مدارج طي كوئ: يوه د طفوليت زمانه ده چې انسان په كې بالكل كمزورى او ناتوان وي، او د ده ټولې قواوې مخفي او پټې وي، بيا داسې يو وخت پرې راځي چې ټولې پټې قواوې يې ظاهريږي، د جسماني حيثيته هر شى د خپلې ځوانۍ كمال ته رسيږي، بيا خو ځينې په ځلميتوب كې مړ او ځينې خو هغه عمر ته رسيږي، چې په هغه كې انساني قواوې، حواس او اعضاء له زور او قوّت څخه لويږي، او له پوهې او عقل او د كار كولو له قدرت څخه وروسته له كاره لويږي، او بيخي بېكاره او خراب ګرځي، ياد شوي شيان يې له ياده وځي، او له زده كړو شيانو څخه هم په هيڅ شي نه پوهيږي او ترې هيرېږي (ګواكې بېرته وړوكتوب ته ګرځي).

ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّهُ يُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَأَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٦﴾ وَأَنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا وَأَنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ مَن فِي الْقُبُورِ ﴿٧﴾

دغه (راز راز پيدا كول او ژوندي كول) په سبب د دې دي چې بېشكه الله هم دى حق (ثابت موجود دائم په رښتيا مستحق د عبادت)، او بېشكه دى ژوندي كوي مړي، او بېشكه الله په هر شي ښه قادر دى. او بېشكه چې قيامت راتلونكى دى، چې نشته هيڅ شك په (راتلو) د دغه (قيامت) كې، او بېشكه چې الله بيا ژوندي راپاڅوي هر هغه چې په قبرونو كې دي (د حساب او جزاء لپاره).

تفسير: د انسان له پيدايښت او دكښت (فصل) د مثالونو څخه چې پورته ذكر شول، څو خبرې ثابتيږي:

(١): دا چې يقيناً او په تحقيق الله تعالى موجود دى، كه نه داسې منظم، محكم او حكيمانه صنائع به له كومه څرګند شوي وى، او د چا له لاسه به دغسې چارې انجام شوي وى؟.

(۲): دا چې الله تعالی مړو او بې ساه شیانو ته ژوند ورکوي، او ساه په کې اچوي، لکه چې له یو موټي خاورې یا له یو څاڅکي اوبو څخه انسان جوړول او په مړه وچه ویجاړه ځمکه کې نباتي روح اچول په دې شاهد دي، چې پاک الله ته بیا پیدا کول هیڅ مشکل کار نه دی.

(۳): دا چې الله تعالی پر هر شي باندې قادر دی، او که هر شی د ده تر قدرت لاندې نه وی؛ نو له سره به یې داسې کارونه نشو کولی.

(۴): قیامت ضرور واقع کېدونکی دی، او له دې ژوند څخه وروسته خامخا بل ژوند راتلونکی دی، ځکه چې دومره لوی لوی انتظامونه هم داسې لغو، او بېکاره نشي پاتې کېدی.

د دې خبرې تقاضا دا ده چې کوم بل ژوندون دې خامخا موجود وي، چې هلته سعید او شقي، مجرم او وفادار او نور په صاف ډول سره بېل او جدا شي، او هر یو هم هغه مقام ته ورساو ه شي؛ چې د هغه ځای د رسېدلو لپاره پیدا شوی، او د هغه قوّت او استعداد په خپل وجود کې لري.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ۝ ثَانِيَ عِطْفِهٖ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ لَهٗ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّنُذِيْقُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَذَابَ الْحَرِيْقِ ۝ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ۝

او ځینې له خلقو هغه څوک دي چې جګړه کوي په (حق یا قدر یا کلام د) الله کې بې له پوهې، او بې دلیله، او بې د لارې سمې، او بې له کتابه روښانه. په داسې حال کې چې اړوي څنګ خپل (له ایمانه په تکبر او اعراض سره او جګړې کوي) چې ګمراه کړي خلق له لارې د الله، شته ده لره په دنیا کې رسوایي او وبه څکوو مونږ ده لره په ورځ د قیامت کې عذاب سوځوونکی. (او وبه وایو ده ته) دا عذاب او رسوایي په سبب د هغو عملونو دي چې پخوا لیږلي دي دواړو لاسونو ستا (یعنې تا)، او (بل په سبب د دې دي چې) بېشکه الله نه دی (هیڅ قدر) ظلم کوونکی پر بندګانو (خپلو چې بې ګناه څوک په عذاب کړي).

تفسیر: یعنې د داسې واضحو دلائلو او شواهدو له اورېدلو څخه وروسته بیا هم کاږه تلونکي، ضد کوونکي او معاند خلق د الله تعالی په خبرو کې همداسې چتې (بېکاره) او بې سنده جګړې کوي، حال دا چې له دوی سره نه کوم ضروري علم، نه عقلي دلیل او نه سمعي سند وي، بلکه تش په اوهامو او ګومانونو پسې روان وي، نو هر هغه څوک چې بې له حجّت او دلیله تش د عناد لامله د الله تعالی په خبرو کې جګړې کوي، او غرض یې دا وي چې نور خلق د ایمان او یقین له لارې څخه وګرځوي؛ نو الله تعالی به هغه په دنیا کې خوار او ذلیل کړي، او د آخرت عذاب او رسوایي خو بېله ورته تیاره ده.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ ۚ فَاِنْ اَصَابَهٗ خَيْرُ ِۨاطْمَاَنَّ بِهٖ ۚ وَاِنْ اَصَابَتْهُ فِتْنَةُ ِۨانْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ۚ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةَ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ۝

او ځینې له خلقو هغه څوک دي چې عبادت کوي د الله په څنګ باندې (یا شک او شبهه چې په دین کې یې پیدا کوي، او حق یې نه ګڼي) پس که ورسېږي ده ته کوم خیر (په سبب د دین سره لکه صحت اوغنی؛) نو قائم پاتې شي په دغه (عبادت او دین)، او که ورسېږي ورته کوم مصیبت؛ نو بېرته وګرځي په مخ خپل (کفر ته نو) زیانکار شو په دنیا کې (چې خپل مراد ته ونه رسېد)، او

(زيانکار شو په) آخرت کې، (چې عمل يې باطل او په اور کې داخل شو)، دغه (د دواړو جهانو زيان) همدغه زيان دی ښکاره.

يَدْعُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُ وَمَا لَا يَنفَعُهُ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ ﴿١٢﴾

رابلي دی (عبادت کوي مشرک) غير له الله د هغه څه چې نه ضرر رسولی شي ورته (که يې عبادت ونه کړي)، او د هغه څه چې نه نفع رسولی شي ورته (که يې عبادت وکړي)، دغه (عبادت د ما سوی الله) همدغه ګمراهي ده ډېره لويه لرې (له حقه له مقصده).

يَدْعُو لَمَن ضَرُّهُ أَقْرَبُ مِن نَّفْعِهِ ۚ لَبِئْسَ الْمَوْلَىٰ وَلَبِئْسَ الْعَشِيرُ ﴿١٣﴾

بولي دوی (عبادت کوي مشرکان) د هغه (معبود) چې ضرر د هغه (عابد ته يې) ډېر نژدې دی له ګټې د هغه (معبود دغه عابد ته، چې د شفاعت هيله ده)، خامخا بد دوست دی (دا باطل معبود) او خامخا بد ملګری دی.

تفسير: يعنې که د بُت پرستانو له زعم سره موافق له بُتانو څخه د ګټې هيله لرئ؛ دغه هيله بې فائدې او موهوم شی دی، ليکن د دوی له عبادت څخه نقصان او ضرر رسېدل قطعي او يقيني دي، نو ځکه د دوی د فائدې خبره به وروسته له دې نه ليدل کيږي، نقصان خو اوس سمدلاسه وروړسېد.

﴿لَبِئْسَ الْمَوْلَىٰ وَلَبِئْسَ الْعَشِيرُ﴾ يعنې کله چې په قيامت کې د بُت پرستی نتائج ور د مخه شي؛ نو بت پرستان به همداسې وايي: ﴿لَبِئْسَ الْمَوْلَىٰ وَلَبِئْسَ الْعَشِيرُ﴾.

إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿١٤﴾

بېشکه چې الله ننه باسي هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه په داسې) جنتونو کې چې بهيږي له لاندې (د ونو او ماڼيو) د هغو ويالې، بېشکه چې الله کوي هر هغه چې اراده يې وکړي (چې ځينې يې د مطيعانو کرامت او د عاصيانو اهانت دی).

تفسير: يعنې پاک الله د هر هغه چا په نسبت چې مشيت او اراده وکړي؛ سزا ورکوي، او هر هغه ته چې اراده او مشيت يې وي؛ انعام ورکوي، هيڅوک د دې خبرې توان نه لري چې د ده لاس ونيسي.

مَن كَانَ يَظُنُّ أَن لَّن يَنصُرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ إِلَى السَّمَاءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُ مَا يَغِيظُ ﴿١٥﴾

هر څوک چې (داسې) وي چې ګومان کوي د دې چې له سره به مرسته (مدد) ونه کړي له دغه (محمد) سره الله په دنيا کې او په آخرت کې؛ نو ودې غځوي يو پړی اسمان ته (يا چت ته او ځان دې پرې ځوړند کړي)، بيا دې پرې کړي (دغه پړی چې ولويږي او مړ شي، يا دې ځان غرغره کړي) بيا دې وګوري چې آيا بيا زائلولی شي هيله، تدبير د هغه (سړي) هغه شي لره چې دی يې په قهر کړی دی (چې د الله له خوا د محمّد نصرت دی).

تفسير: الله تعالى د خپل رسول سره د دنيوي او اخروي فتحې او نصرت کومې وعدې چې کړي دي؛ هغه خامخا پوره کېدونکې دي، که کافران او حاسدان ډېر په قهر او خفه شي، او د ربّاني نصرت د مخنيوي او انسداد لپاره ډېر تدابير هم ونيسي؛ ليکن د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم د نصرت او بري او کاميابۍ مخه په هيڅ ډول سره نشي نيولی، او هغه به خامخا ترسره کېږي، که دغه کفّار او حاسدين د محمد صلى الله عليه وسلم په دغه نصرت ډېر زيات خفه او غمجن دي، او په دې باندې پوهيږي چې مونږ په خپلو کوښښونو او زيار (محنت) ويستلو سره د الله تعالى د ارادې او مشيت لاره بندولی شو؛ نو دوی دې خپل کوښښ په دې لاره کې ولګوي، تر دې پورې چې د پړې يو سر دې د چت په لاړو کې ښه جګ وتړي، او بل سر دې د تېزندۍ په شان په خپله غاړه کې واچوي، او په خپل لاس دې خپل ځان غرغره کړي، او په دې صورت دې له ډېر قهر او خفګان څخه خپل ځان مړ او خلاص کړي، يا که يې له لاسه پوره وي؛ نو يو پړی دې له آسمان څخه ځوړند کړي، او په هغې دې اسمان ته وخيژي، او له هغه ځايه دې اسماني نصرت قطع کړي، نو بيا دې د راښکته کېدو نه وروسته وګوري چې په دغو تدبيرونو سره دغه ربّاني معاونت او اسماني نصرت منقطع کېږي؟ چې په هغه دوی دومره په قهر دي.

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يُّرِيْدُ ﴿١٦﴾

او په شان (د دغو منزّلو آيتونو) نازل کړي ليږلي دي مونږ آيتونه ښکاره، او بېشکه چې الله سمه صافه لاره ښيي هر هغه چا ته چې اراده وکړي (د هغه د هدايت).

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِـُٔوْنَ وَالنَّصٰرٰى وَالْمَجُوْسَ وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا ۖ اِنَّ اللّٰهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿١٧﴾

بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، او هغه کسان چې يهوديان دي، او (هغه کسان چې) صابيان دي، او (هغه کسان چې) نصرانيان دي، او (هغه کسان چې) مجوسيان دي، او هغه کسان چې شريک يې پيدا کړی دی له الله سره؛ بېشکه چې الله به فيصله وکړي په منځ د دوی کې په ورځ د قيامت کې، بېشکه چې الله په هر شي باندې ښه شاهد دی.

تفسير: مجوس د اور عبادت کوي، او په دوه معبودانو عقيده لري، يو د خير معبود چې دوی ورته (يزدان) وايي، دوهم د شر معبود چې هغه (اهرمن) بولي، او د کوم نبي نوم هم يادوي، دا معلومه نه ده چې دوی له هدايت څخه وروسته په ضلالت مبتلا شوي دي، يا له ابتداء څخه په غلطه لار روان دي.

د دغو ګردو مذاهبو او فرقو د منازعې عملي او قاطع فيصله به د الله تعالى له درباره د قيامت په ورځ کې کېږي، او هر يو به سره جدا کوي، او خپلو خپلو ټاکلو (مقرر شويو) ځايونو ته به يې رسوي، په دې باندې يواځې پاک الله عالم دی چې کوم يو د کوم مقام او د کومې سزا مستحق دی؟.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَسْجُدُ لَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُوْمُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَاۗبُّ وَكَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ ۭ وَكَثِيْرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ ۭ وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يَشَاۗءُ ﴿١٨﴾ السجدة

آيا نه وينې، نه پوهيږې ته؟ چې بېشکه الله چې دی سجدې ږدي (عبادت کوي) ده ته هر هغه چې په اسمانونو کې دي (له علويّاتو)، او هر هغه چې په ځمکه کې دي (له سفلياتو)، او لمر او

سپوږمۍ او ستوري او غرونه او ونې او څلوربول او ډېر له خلقو (چې مؤمنان دي) په عبادت سره، او ډېر دي (له کفارو) چې ثابت شوی دی پرې عذاب (چې سجده نه ږدي الله ته)، او هر څوک چې سپک يې کړي الله؛ پس نشته ده ته هيڅوک عزت ورکوونکی، بېشکه چې الله کوي هر هغه کار چې اراده يې وکړي (له اکرام او اهانت څخه).

هَٰذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ

دا دواړه (ډلې مؤمنان او کافران) مدّعيان دي چې جګړه يې وکړه په (ذات، صفات او دين د) رب خپل کې.

تفسير: يعنې پخوا له دې نه چې په ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالصَّابِئِينَ﴾ الآية ـ کې چې د هغو ذکر وشو؛ هغو ته د حق او باطل له حيثه دوه ډلې ويلی شو: يوه د مؤمنانو ډله چې د خپل رب ټول اوامر مني، او د ده د احکامو په مقابل کې سر په سجده ږدي، دويمه د کفّارو ډله چې په هغو کې يهودان، نصرانيان، مجوسيان، مشرکين، صابئين او نور ټول شامل دي، چې د الله رباني هدايت نه قبلوي، او د الله د اطاعت لپاره سر په سجده نه ږدي، دغه دواړه ډلې په دغو مباحثو او مناظرو کې، د جهاد او قتال په مواقعو کې هم يو د بل په مقابل کې ټينګ ولاړ وي.

فَالَّذِينَ كَفَرُوا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن نَّارٍ

پس هغه کسان چې کافران شوي دي؛ څکختې (جوړولی) شي دوی لپاره جامې له اوره.

تفسير: يعنې لکه څنګه چې کالي (جامي) د انسان بدن پټوي؛ د جهنم اور به هم دغه راز دوی احاطه کوي، او ترې به چاپېريږي، يا به د کوم داسې شي کالي ورواغوستل شي، چې د اور ګرمي به پرې ډېر ژر اثر کوي، او ډېر زيات به سور کيږی.

يُصَبُّ مِن فَوْقِ رُءُوسِهِمُ الْحَمِيمُ ﴿١٩﴾ يُصْهَرُ بِهِ مَا فِي بُطُونِهِمْ وَالْجُلُودُ ﴿٢٠﴾ وَلَهُم مَّقَامِعُ مِنْ حَدِيدٍ ﴿٢١﴾

اچولی به شي (په شدّت سره) له پاسه د سرونو ددوی اوبه سرې يشېدلي. چې خورين به شي په دغو اوبو سره هغه (کولمې) چې په ګېډو د دوی کې دي او پوستکي (د دوی هم). او وي به د دوی لپاره څټکونه (ګرزونه) له اوسپنې (چې د دوی سرونه به پرې ټکولی او وهلی شي).

تفسير: يعنې د دوزخيانو ککړی به په څټکونو ګرزونو سره ميده کيږي، او يشېدلې اوبه به له پاسه پرې اچولی کيږي، چې د ماغزو له لارې به د دوی ګېډې ته ورځي، او له هغه څخه به د دوی ټولې کولمې توتې توتې د دوی له مقعدو څخه لاندې تويږي، او د دوی د بدن خارجي سطح به هم د دې اوبو له رسېدلو څخه بيخي شړيږي، او د ورستې وينې غوښې په شان به ترې لويږي، بيا به خپل اصلي حالت ته بېرته ورګرځي، او پرله پسې به همدغه عمل تکراريږي: ﴿كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ﴾ (٥ جزء د النساء سورت (٥٦) آيت (٨) رکوع)، اللهم أعذنا من غضبك وعذابك !.

كُلَّمَا أَرَادُوا أَن يَخْرُجُوا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ أُعِيدُوا فِيهَا وَذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ ﴿٢٢﴾

هر کله چې اراده وکړي (دوزخيان) د دې چې ووځي له دغه (دوزخ څخه) له غمه؛ نو بېرته ګرځولی شي دوی په دغه (اور) کې او (وبه ويلی شي دوی ته) وځکئ تاسې عذاب (د اور ډېر) سوځوونکي.

تفسير: يعنې کله چې کافران په دوزخ کې ډېر غم او تکليف ووينې؛ نو وبه غواړي چې له دې ځای نه ووځي او چېرې وتښتي، خو د اور لمبې به دوی له ځان سره پورته کړي، بيا به يې پرښتې د اوسپنو په ګرزونو سره وهي، او لاندې به يې غورځوي، او داسې به ورته ويل کيږي: «د اور د دغه دائمي عذاب خوند وڅکئ !»، چې له سره به ترې بېرته نشئ وتلی «العياذ بالله».

إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ

ببشکه چې الله ننه باسي هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه په داسې) جنتونو کې چې بهيږي له لاندې (د مانيو او ونو) د هغو ويالې، ګانې به واچول شي (جنتيانو ته) په دغه (جنت) کې له باهو ګانو (وښيو) له سرو زرو او له مرغلرو ځنې.

تفسير: يعنې په لويه هوسايی (آرام)، ښايست، او زيب سره به اوسيږي، او له هر يو عنوان څخه يې تجمّل تنعم څرګندېږي.

وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٢٣﴾

او جامې د دغو (جنتيانو) به په دغه (جنت) کې ريښمينې وي.

تنبيه: په احاديثو کې راغلي دي: «هر هغه نارينه چې دلته د ورېښمو کالي واغوندي؛ نو په آخرت کې به يې نه آغوندي»، که دغه آغوستونکی کافر وي؛ نو ښکاره ده چې هغه له سره په جنّت کې نه داخليږي چې د جنتيانو لباس واغوندي، هو ! که مؤمن وي؛ امکان لري چې د څه مودې له مخې د دغه لباس څخه محروم شي، او بيا يې تر ابده پورې واغوندې، نو د دغه غير متناهي مودې په مقابل کې دغه لږه زمانه غير معتدّ به ګڼله کيږي.

وَهُدُوا إِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ ﴿٢٤﴾

او لاره ښوولې شوې ده (جنتيانو ته په دنيا کې له جانبه د الله) طيبې پاکې ته (چې لا إله إلا الله ده) له قول نه.

تفسير: هر هغه مؤمن چې په دنيا کې (لا إله إلا الله) ويلې وي، قرآن يې لوستلی وي، د الله تعالی تسبيح او تحميد، امر بالمعروف، نهي عن المنکر يې کړی وي؛ نو په آخرت کې به هم پرښتې له هرې خوا دوی ته سلامونه اچوي، او پخپله جنتيان به هم په خپلو منځونو کې يو بل ته ښې پاکې خبرې کوي، هلته به بېځايه خبرې، شورماشور، دعوی او دنګلي نه وي، او ټول به د الله تعالی د نعمتونو په شکر ګزاری کې لګيا او مشغول وي، مثلا وايي به: ﴿وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي صَدَقَنَا وَعْدَهُ وَأَوْرَثَنَا الْأَرْضَ نَتَبَوَّأُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَاءُ﴾ (۲۴ جزء، د الزمر سورت (۷۴) آيت)، د (۲۲ جزء د فاطر سورت په (۳۳ - ۳۴) آيتونو) کې راغلي دي: ﴿يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ * وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ﴾ الآية - په همدغه سره د دې حاضر آيت تفسير کيږي، لکه چې په روح الهاني تفسير کې راغلې دي، نبّه عليه في روح المعاني.

وَهُدُوا إِلَى صِرَاطِ الْحَمِيدِ ﴿٢٤﴾

او لار ښوولې شوې ده (جنتيانو ته په دنيا کې) طرف د لارې (د الله) ته چې ستايل شوې دی په ښو ښو صفتونو سره.

تفسير: يعنې د الله تعالى لاره يې وموندله چې نوم يې اسلام دى، دغه لاره په خپله هم حميده ده، او د لارې خاوند هم حميد دى، يا يې هغه ځاى ته لاره وموندله؛ چې هغه ته په رسېدلو سره انسان د الله تعالى د نعمتونو شكر اداء كوي.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الَّذِي جَعَلْنَاهُ لِلنَّاسِ سَوَاءً الْعَاكِفُ فِيهِ وَالْبَادِ

بېشكه هغه كسان چې كافران شوي دي، او اړوي (منع كوي خلق) له لارې د الله (اسلام نه) او له مسجد حرام نه؛ (نو معذبېږي په عقبى كې)، هغه (مسجد) چې ګرځولى دى مونږ دغه مسجد ځاى د عبادت لپاره د (ټولو) خلقو، برابر دي اوسيدونكي په دغه (مسجد) كې او له بهره راتلونكي.

تفسير: يعنې يو خو هغه خلق دي چې له خپلې ګمراهۍ سره سره دنورو مخه هم نيسي، چې د هدايت په لاره لاړ نشي، او غواړي چې هيڅوک د الله تعالى په لاره سم نشي، تر دې هغه مسلمانان چې د خپل پيغمبر سره د عمرې د اداء كولو لپاره مكې معظّمې ته روان وو؛ د هغوى مخه يې هم ونيوله، حال دا چې مسجد الحرام يا د حرم شريف هغه برخه چې په هغې پورې د خلقو عبادت او مناسك تعلّق لري؛ ټولو ته يو شان دى، او هلته مقيم اومسافر او محلي او پردېسي ته د اوسېدلو او عبادت كولو مساوي حقوق حاصل دي، هو ! كه څوک د هغو متبركو ځايونو څخه د شړلو وړ او لايق وي؛ نو هم هغه كسان دي چې په خپل شرك او شرارت د دې مبارك ځاى بې احترامي او بې عزتې كوي.

وَمَنْ يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٥﴾

او هر چا چې اراده وكړه په دغه (مسجد الحرام) كې د بې لارۍ (د حق نه په مخ ګرځولو سره)؛ نو وبه څكوو مونږ په هغه (كږېدونكي) له عذاب دردناك څخه.

تفسير: يعنې هغه څوک چې په مسجد الحرام كې عمدًا او بالاراده د بې دينۍ او شرارت كومه خبره كوي؛ نو هغه ته به د هغه چا په نسبت چې دغه كار په بل ځاى كې كوي سخته سزا ورکړى شي، نو له دې نه د هغو خلقو حال معلوم كړئ چې په خپل ظلم او شرارت سره يې د مؤمنانو مخه د مكّې معظّمې د زيارت د ورتګ په وخت كې نيولې وه.

وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ

او (ياد كړه اى محمده !) هغه وخت چې ښكاره (معين) كړ مونږ ابراهيم ته ځاى د بيت الله.

تفسير: وايي چې د كعبې شريفې ځاى لا له پخوا څخه مقدّس او متبرّك وو، بيا د ډېرې مودې په تېرېدلو سره ورك او نامعلوم شو، ابراهيم عليه السلام ته حكم وشو چې بيت الله ودانه كړه ! او د هغه معظم مقام نښې وروښودل شوې، ابراهيم عليه السلام د خپل ځوى اسماعيل عليه السلام په ملګرتيا د كعبې خونه (كور) ودانه كړه.

أَنْ لَا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا

(او ورته مو وويل) چې مه شريكوه له ما سره هيڅ.

تفسير: يعنې د دې كور بنسټ او تاداو (بنياد) په خالص توحيد باندې كېږده ! هيڅوک دې چې دغه ځاى ته راشي؛ د الله تعالى د عبادت څخه پرته مشركانه رسوم په ځاى نه راوړي، د مكې معظمې كفّارو سره له دې چې د ابراهيمي ملّت

مدّعيان وو، ددغه آيت خلاف عمل وکړ چې هلته يې دري سوه شپېته بتان ودرول (العياذ بالله)، ځمونږ سيد المرسلين خاتم الأنبياء محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم دغه مطهّر او مقدّس ځای له دغه نجاست او ګندګۍ څخه د تل لپاره پاک کړ، فلله الحمد والمنة.

وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِينَ وَالْقَآئِمِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ﴿٢٦﴾

او پاک ساته کور ځما (له بُتانو او نورو پليتو څخه) لپاره د طواف کوونکو، او لپاره د قيام کوونکو (په مکه کې)، او رکوع کوونکو، او سجده کوونکو (لمونځ کوونکو لپاره).

تفسير: يعنې يواځې د همدغو خلقو لپاره دې مخصوص وي، او له نورو ټولو څخه دې پاک او صاف کړ شي.

وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ﴿٢٧﴾

او غږ وکړه (ای ابراهيمه) په خلقو کې د حج (د اداء کولو) لپاره، چې راشي (حاجيان) تاته پلي (پياده) او (سواره) په هر ډنګر اوښ چې رائي (دا اوښان) له هرې لارې لرې (ژورې لرې) نه.

تفسير: کله چې کعبه ودانه شوه، نو ابراهيم عليه السلام په يوه جګ (اوچت) غره باندې ودرېد، او داسې غږ يې وکړ: «ای خلقو ! پاک الله په تاسې حج فرض کړی دی، حج ته راشئ !»، حق تعالى دغه غږ په هر ځای کې هر روح ته ورساوه، نو د هر چا لپاره چې حج مقدّر وو؛ د هغه روح دغه غږ ته لبّيک وويل، او هم هغه د شوق پټې سکروټې دي، چې په زرهاوو پلي (پياده) هم د حج د سفر ربړونه (تکليفونه) په ځان اخلي، او د بيت الله په ليدلو سره خپلې سترګې رڼوي، او ډېر زيات خلق خو له دومره لرې ځايونو څخه سواره دمکې معظمې په لوري سفر کوي؛ چې له ډېرو مزلونو او سفر کولو څخه د دوی اوښان ستړي ستومانه او بيخي خوار او ډنګر کيږي، زياترو حاجيانو ته غښتلي او څارويه اوښان کله وررسيږي، نو ځکه په همدغو خوارو، ډنګرو، وچو، کلکو اوښانو مزلونه کوي، دا ګواکې د هم هغې دعاء د مقبوليت اثر دی، چې ابراهيم عليه السلام کړې وه: ﴿فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ﴾ (١٣ جزء د ابراهيم سورت (٣٧) آيت (٦) رکوع).

لِّيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ

لپاره د دې چې حاضر شي (دغه خلق ځای د دنيوي او اخروي) ګټو خپلو ته، او چې ياد کړي نوم د الله په هغو ځو ورځو (د لوی اختر) کې چې معلومې دي په (ذبح د) هر هغه حيوان چې ورکړی دی الله دوی ته له بې ژبو چارپايانو څخه.

تفسير: د بيت الله د حج اصلي مقصد خو اخروي ګټو حاصلول دي، مثلاً د حج او عمرې او د نورو عباداتو په ذريعه د الله تعالى خوښي حاصلول او د روحاني ترقياتو لوړو (اوچتو) مقاتو ته رسېدل، ليکن د دغې لويې اجتماع په ضمن کې ډېر زيات سياسي، تمدّني او اقتصادي ګټې هم حاصلېدی شي، کما لا يخفى.

د ﴿أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ﴾ څخه د ذوالحجې درومبنی لس (١٠) ورځې مراد دي، په دغو ورځو کې د الله تعالى د يادونې فضيلت ډېر زيات ښوولی شوی دی، د دغه ذکر لاندې په خصوصي ډول دا هم داخل دي، چې د قربانۍ د حيواناتو د ذبح کولو په وخت کې دې د الله تعالى نوم واخيست شي، او «بسم الله، الله أكبر» دې وويل شي، په دغو ورځو کې ډېر ښه عمل همدا دی چې د پاک الله په نامه دې ذبح وکړی شي.

فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ ﴿٢٨﴾

پس خورئ تاسې له هغې (غوښې) څخه، او خوراک ورکوئ بد حال فقير (محتاج) ته.

تفسير: ځينو کفّارو داسې خيال کاوه چې په خپله قرباني کوونکي ته نه ښايي چې د قربانۍ له غوښې څخه څه وخوري، دا دی په دې آيت کې د دې مفکورې اصلاح او حکم کوي، چې له دغې غوښې څخه هم تاسې په شوق سره وخورئ، هم يې په خپلو دوستانو، خپلوانو، خوارانو او غريبانو وخورئ !.

ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴿٢٩﴾

بيا دې لرې کړي (حاجيان حاجتونه او) خيرې خپل، او پوره دې اداء کړي نذرونه خپل (او د حج واجبات)، او طواف دې وکړي په هغه کور چې قديم کريم دی.

تفسير: له کوم ځايه چې لبّيک ويل شروع کيږي (احرام تړل کيږي)؛ نو محرِم نه وينه وباسي، نه خپل ويښتان او نوکان اخلي، نه خپل ويښتان غوړوي، نه د بدن د خيرو، دوړو او ګردونو په لرې کولو دومره زيات اهتمام کوي، او نه په ډېره مبالغه او مښلو لامبي، کله چې د ذوالحجة الحرام لسمه ورځ راشي؛ دغه ګرد قيدونه لرې کيږي، سرونه خريل يا ويښتان اخيستل کيږي، ښه غسل کوي، ګنډلې او صفا کالي (جامې) اغوندي، او د کعبې د زيارت طواف ته ځي، په چا چې ذبح لازمه وي؛ رومبی ذبح کوي، او د «نذرونو» د ورکولو څخه مطلب دا دی چې هغه نذرونه چې د خپلو مطالبو لپاره يې پر خپل ځان منلي وي؛ هغه دې اداء کړي، اصلا دغه نذر د الله تعالى نذر دی او د بل هيڅوا نه دی، د ځينو په نزد د «نذرونو» د لفظ څخه د حج مناسک يا د حج واجبات مراد دي، او همدغه ډېر نژدې رابښکاري، والله أعلم.

ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ عِندَ رَبِّهِ ۗ وَأُحِلَّتْ لَكُمُ الْأَنْعَامُ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ۖ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ ﴿٣٠﴾

دا حکم مو واورېد (يا امر همدا دی چې تېر شو). او هر چا چې تعظيم وکړ د احکامو د الله؛ پس دا کار غوره دی ده ته په نزد د رب د ده، او حلال کړی شوی دی تاسې ته (خوراک د غوښې د څارويو (پس له ذبحې) مګر (حرام دي) هغه څاروي چې لوستل کيږي په تاسې (حراموالی يې)، پس ځان ساتئ تاسې له پليتۍ څخه چې بُتان دي، اوځان ساتئ تاسې له وينا د دروغو څخه.

تفسير: لکه چې له ترجمې څخه ښکاري: «ذلک» دمحذوفې مبتدأ خبر دی، يعنې حرام شيان درانه ګڼل او د هغو پرېښودل، يا هغه شيان چې د الله تعالى له طرفه محترم ښودل شوي دي، د هغوی د احترام او ادب او تعظيم قائم ساتل لويه نيکي او د ښېګڼې (فائدې) خبره ده، او د هغو انجام به ډېر ښه وي.

په محترمو شيانو کې د قربانۍ حيوان ـ بيت الله ـ صفا ـ مروه ـ منى ـ عرفات ـ مسجدين ـ قرآن بلکه د الله تعالى ټول احکام راځي، په خصوصي ډول سره دلته د مسجد الحرام او د هديې د حيوان په تعظيم زور اچول شوی دی، چې د الله تعالى د بندګانو په راتګ کې هلته په حرم کې څه مشکلات پيدا نه کړئ ! او نه د ممانعت عوامل منځ ته راوړئ ! او نه هغه د هديې حيوانات بهرته تللو ته مجبور کړئ، بلکه قيمتي، ښه څاربه څاروي قرباني کړئ !.

﴿إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ﴾ يعنې هغه حيوانات چې د هغو حراموالی وخت په وخت تاسې ته ويل کيږي، لکه چې په «البقرة»، «المائدة»، «الأنعام» کې مفصّلاً تېر شول، نو هغه حلال نه دي.

﴿فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ﴾ يعني ځاروی د الله تعالی مخلوق او مملوک دی، يوائې د الله تعالی په حکم او د هغه په نامه حلال کېدی شي، او د الله تعالی د کعبې نذر کېدی شي، هغه ساکښ (ذي روح) چې د کوم بُټ په قربانګاه کې ذبح کيږي؛ هغه مردار يږي، د داسې شرک او پليتو کارونو څخه ځان ساتنه او اجتناب ضروري دی.

﴿وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ﴾ يعني د دروغو ويل، او د دروغو شاهدي ورکول، د بل په نامه د الله تعالی د پيدا کړو حيواناتو حلالول، بې د شرعي حکم څخه يو شي ته حلال او يا حرام ويل ټول په «قول الزور» کې داخل دي، د «قول الزّور» د بدۍ اندازه له دې نه اټکل کېدی شي، چې دلته الله تعالی د هغه ذکر له شرک سره کړی دی، او د الأعراف سورت په (۳۳ آيت، (۴) رکوع، ۸ جزء) کې يې داسې ارشاد کړی دی: ﴿وَأَنْ تُشْرِكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾ په احاديثو کې رسول الله صلی الله عليه وسلم هم په ډېر تأکيد او تشديد سره له دې نه ممانعت کړی دی.

حُنَفَاءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ ۚ

په داسې حال کې چې غاړه ايښودونکي يئ په اخلاص سره خاص الله ته، نه يئ مشرکان په ده باندې.

تفسير: يعني له هر طرف او هر چا څخه مخ وګرځوئ، او يوائې د هم هغه واحد لا شريک الله تعالی خالص بندګان اوسئ ! ښايي ستاسې ټول افعال او نيتونه په کُلّي ډول بې د بل د شرک نه خاص الله تعالی ته وي، او د الله تعالی په الوهيت او عبادت کې بل هيڅوک مه شريکوئ.

وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴿٣١﴾

او هر چا چې شريک ونيو له الله سره؛ پس لکه چې راوغورځېد له اسمان څخه پس وتښتوي دی په چابکۍ سره مرغان (او پوتې پوتې کوي يې)، يا وغورځوي دی باد (له کوم هسک «اوچت» ځای نه) په لرې ژور (ښکته) ځای کې.

تفسير: دا يې د شرک مثال بيان کړ، خلاصه يې دا ده چې د توحيد مقام نهايت اعلی دی، کله چې انسان توحيد پرېږدي، او د کوم بل مخلوق په مقابل کې خپل سر ښکته کړي، نو دی په خپله خپل ځان ذليل او سپک کوي، او د توحيد له لوړ (اوچت) اسمان څخه د شرک او کفر کندې ته لويږي.

ښکاره ده چې له دومره جګ ځای څخه دومره ژور ځای ته له لوړلو څخه وروسته ژوندی نشي پاتې کېدی، اوس خو به يا د اهواوو او ناکارو افکارو مردار خواره ځناوران له ځلورو خواوو د ده د غوښې پوتې په خپلو منښو کو او پنجو سره دانګې دانګې او پوتې پوتې کړي، او وبه يې خوري، يا به لعين شيطان د يوې تېزې ګرځندۍ هوا په پرېښو کې کې دی له خپله ځان سره پورته کړي، او په کومه ډېره زياته لرې ژوره کنده کې به يې وغورځوي، چې هيڅوک به د ده هيڅ يو هډوکی او پښتی ونه ويني.

ذَٰلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ ﴿٣٢﴾

دا حکم مو واورېد (يا امر همدا دی چې تېر شو) او هر چا چې تعظيم وکړ د علائمو د (دين د) الله (چې د حج افعال، د هدايواوو څربول او نور عبادت دي)؛ پس بېشکه دا (تعظيم) د زړونو له تقوی څخه دي.

تفسير: يعني د شعائر الله تعظيم په شرک کې داخل نه دی، د هر چا په زړه کې چې د پرهېزګارۍ مضمون او د يو الله جل جلاله خوف وي؛ نو دی به خامخا د شعائر الله ادب او تعظيم کوي، دغه ادب او تعظيم شرک نه دی، بلکه د الله تعالى د عين توحيد له آثارو څخه دی، ځکه چې د الله تعالى رښتينی بنده د هر هغه شي چې الله جل جلاله ته منسوب وي؛ قدر او ادب کوي.

لَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَا إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴿٣٣﴾

شته تاسې ته په دغو څلورو بولو (د هديو) کې فائدې تر وخت معلوم پورې (چې د دوی د حلالولو وخت دی)، بيا (رسونه ده) ځای (د حلالولو) د دوی ته تر بيت الله پورې، (يا) بيا وخت د دغو منتهي دی هغه بيت ته چې بلند شان دی.

تفسير: قديم کور بيت الله شريف دی، او دلته ښايي توسُّعًا ترې ټول حرم مراد وي، يعني د اوښانو، غويو، پسونو (ګډانو) او نورو نه تاسې ډېرې ګټې حاصلولی شئ، مثلاً پرې سور ېرئ، شودې يې څښئ، او نسل ترې اخلئ، او لا يې پسې زياتوئ، له وړيو، پوستکو او نورو څخه يې ګټه (فائده) اخلئ، اوس د هغو عظيم الشأنه اخروي فائده همدغه ده، چې کعبې ته يې نژدې راولئ، او د الله تعالى په نامه يې قرباني کړئ.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ۗ فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا ۗ

او هر امت لپاره مونږ مقرره کړې ده قرباني د دې لپاره چې ياد کړي دوی نوم د الله پر هر هغه شي چې رزق، روزي ګرځولې ده (الله) دوی ته له بې ژبو څلور بولو حيواناتو څخه (په وخت د ذبحې د دوی کې)، پس حق معبود ستاسې (او د پخوانيو امتونو) الله حق معبود يو دی، پس خاص همده ته غاړه کېږدئ !.

تفسير: يعني الله تعالى ته د نذر په ډول د حيواناتو حلالول په هر اسماني دين کې عبادت منل شوی دی، که دا عبادت تاسې غير الله ته د عبادت (نذر) په ډول کوئ؛ نو دغه شرک دی، او ښايي ترې سخت پرهېز وکړی شي، د موحّد کار دا دی چې يواځې د پاک الله په نامه قرباني وکړي، چې د هغه په پاکه نامه ټولو شرائعو د قرباني کولو حکم ورکړی دی، او نه ښايي چې قرباني د ده له حکم څخه خارجه وي.

وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ ﴿٣٤﴾

او زېری ورکړه عاجزي کوونکو ته.

تفسير: يعني هغو خلقو ته د الله تعالى د رضاء او خوښی زېری واوروه، چې يواځې د هغه واحد لا شريک الله جلّ جلالُه حکم مني، او د هغه په مقابل کې غاړه ږدي، او په هم هغه باندې يې زړونه ډاډه کېږي، او د ده له جلال او جبروت څخه تل ويريږي.

الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَالصَّابِرِينَ عَلَىٰ مَا أَصَابَهُمْ وَالْمُقِيمِي الصَّلَاةِ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ﴿٣٥﴾

هغه (عاجزې کوونکي) کله چې ياد کړ شي (د دوی په مخکې نوم د) الله؛ نو ويريږي زړونه د دوی، او (زېری ورکړه) صبر کوونکو ته په هغو (سختيو او غمونو) چې رسيدلي دي دوي ته، او (زېری

ورکړه) قائموونکو (سم درووونکي سره له ټولو حقوقو) د لمانځه ته، (او زېرى ورکړه هغو کسانو ته چې) ځينې له هغو شيانو نه چې ورکړي دي مونږ دوى ته لګوي يې (په ښو کارونو کې).

تفسير: يعنې مصيبتونه او تکليفونه په پوره صبر او ثبات سره په ځان برداشت کوي، او متحمّل کيږي يې، او د کړاوونو او سختيو د تحمّل په وخت کې د حقې لارې څخه يې قدم نه ښويږي.

﴿وَالْمُقِيمِي الصَّلَوٰةِ﴾ الآية ـ د بيت الله تر رسېدو پورې حاجيان له ډېرو مصيبتونو او کړاوونو سره مخامخ کيږي، په سفر کې زياتره د لمونځونو د فوټبدلو يا د قضا کېدلو اندېښنه وي، مال هم په کافي اندازه سره لګيږي، ښايي په همدغه مناسبت يې د دغو اوصافو او خصائلو بيان کړى وي.

وَالْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا لَكُمْ مِّنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ ۖ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا صَوَآفَّ ۚ فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ ۚ كَذٰلِكَ سَخَّرْنٰهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٣٦﴾

او اوښان غوايان (د هديې) ګرځولي دي مونږ دا تاسې ته له علائمو د (دين د) الله، شته تاسې ته په دې کې خير (ديني او دنيوي ګټه)، پس يادوئ نوم د الله په دې (اوښانو غوايانو د ذبحې په وخت کې)، په داسې حال چې ولاړ وي (په دريو پښو چې يوه يې ترې ټرلې وي)، نو کله چې پرېوتل اړخونه د دوى (په ځمکه پس له حلالولو، او روح يې وخوت، او پس له پخېدلو) نو خورئ تاسې له دې نه (که مو خوښه وي)، او خورئ يې په صبر کوونکي او په بې صبره (سوالګرانو، فقيرانو)، همداسې (لکه چې ومو ښوده ذبحه د دوى)؛ تابع کړې دي مونږ دغه (مذبوحې) تاسې ته لپاره د دې چې شکر وباسئ تاسې (په دې نعمت).

تفسير: په دى آيت کريمه کې يې راوښود چې اوښ او نور د قربانۍ حيوانات هم د شعائر الله څخه دي چې د هغو په ښه او څربه ساتنه کې ستاسې لپاره دنيوي او اخروى ګټې شته نو تاسو لره ښايي چې د حلالولو په وخت کې پرى د الله تعالى نوم واخلئ بالخصوص، د اوښ د ذبحې ښه طريقه «نحر» دى، چې هغه قبلې ته مخامخ ودروئ، او يو لاس يې (ښې يا کيڼ) وترئ، او په تېر يې زخم «ټپ» ووهئ، کله چې ټوله وينه يې ووته، او په ځمکه ولوېده، بيا يې بوټي بوټي کړئ، او ترې منتفع شئ، که ډېر اوښان وي؛ نو قطار يې ودروئ ! او په همدغه ترتيب سره يې نحر کړئ !.

په ﴿وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ﴾ الآية ـ کې يې دوه قسمه محتاجان وښوول، يو هغه چې پر صبر او استقامت سره ناست وي، سوال نه کوي، که لږ څه ورورسيږي؛ پر هغه قناعت کوي، بل هغه چې بې قراري کوي، سوال کوي، دې خوا او هغه خوا ګرځي، که څه شى ورته ورکړ شي؛ خو بيا هم قرار نه کيني.

﴿كَذٰلِكَ سَخَّرْنٰهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ الآية ـ يعنې داسې لوى ساکښان (جاندار) چې هم په جثه او هم په قوّت کې له تاسې څخه زيات دي، ستاسې په واک او قبضه کې درکړل شوي دي، چې تاسې له هغو څخه راز راز خدمتونه اخلئ، او په ډېره آسانۍ سره يې حلالولى هم شئ، دا د الله تعالى لوى احسان دى، او ښايي چې د هغه شکر اداء کړ شي، نه داسې چې د شرک په غوره کولو سره بالعکس د هغه ناشکري وکړ شي.

لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ۚ

له سره نه رسيږي الله ته غوښې د دوى، او نه وينې د دوى، وليکن رسيږي دغه (الله) ته پرهېزګاري (اواخلاص چې ملګري وي له دغو مذبوحو سره بې له ريا) له تاسې.

تفسير: يعني يواځې د حيوان په ذبح کولو، او په ځان او نورو د غوښې په خوړلو، يا د هغه د وينې په تويولو تاسې هيڅکله د الله تعالى خوښي او رضاء حاصلولى نشئ، او نه دغه غوښې، وينې او نور شيان د الله تعالى تر درباره رسېدى شي، بلکه د پاک الله دربار ته يواځې ستاسې د زړه تقوى او ادب رسېږي، چې په ډېره خوښى، او پوره رغبت يو قيمتي او نفيس شى د ده په حکم او اجازې سره د ده په نامه د ده کور ته بيايئ، او هلته يې قرباني کوئ، ګواکې د دې قربانى په وسيله مو دغه خبره ښکاره کړه چې مونږ پخپله هم ستا په لاره کې قرباني کېدلو ته همداسې حاضر او تيار يو !.

كَذَٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ ۗ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ ﴿٣٧﴾

همداسې (لکه چې ذکر شو) تابع کړي يې دي دغه (څلور بولي) تاسې ته لپاره د دې چې په لويي ياد کړئ الله (او الله أكبر ووايئ د دوى د حلالولو په وخت کې) په هغې (طريقې) سره چې لاره يې ښوولې ده تاسې ته، او زېرى ورکړه نېکوکارانو ته (د جنّت).

تفسير: يعني «بسم الله والله أكبر، اللهم لك ومنك» ووايئ او ذبح کړئ، او د الله تعالى شکر اداء کړئ، چې ده د خپل محبّت او د عبوديت د اظهار څرنګه ښه لار راوښوولە، او د يوه حيوان ذبح يې ګواکې ستاسې د ځان د قربانى په ځاى قائم مقام ودرولە.

إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ ﴿٣٨﴾

بېشکه چې الله دفع کوي (د کفّارو مکر) له هغو کسانو څخه چې ايمان يې راوړى دى، بېشکه چې الله محبت نه کوي هر خيانتګر (له خالق او مخلوقاتو سره او) ناشکره.

تفسير: يعني مسلمانان دې ډاډه او مطمئن اوسي، چې الله تعالى به ډېر ژر له دښمنانو څخه د دوى لاره صافه کړي، او تر مسجد الحرام پورې د رسېدلو او د هغه د متعلقه احکامو په تعميل کې به هيڅ مخالفت او مشکلات پاتې نشي، بې له کوم خوف او خطره به دوى حج او عمره اداء کوي، ګواکې د هغه بشارت امر چې په ﴿وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ﴾ کې ورکړى شوى وو؛ د هغه يو زېرى او بشارت همدا دى.

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ﴾ «بېشکه چې الله تعالى محبت نه کوي هر خيانت ګر له خالق او مخلوقاتو سره او ناشکره»، يعني که ناشکرو ټګانو ته تر يوه خاص ميعاد پورې مهلت ورکړى شي؛ نو داسې خيال مه کوئ چې دوى د الله تعالى خوښېږي، دغه ډيل او مهلت په ځينو مصالحو او حکمتونو بناء دى، آخري انجام او پاى به يې همداسې وي، چې د حق خاوندان به غالب او د باطل خاوندان به مغلوب او باطل پرستان به بيخي له دې لارې څخه لرې کړى شي.

دا له هغو مبارکو آيتونو څخه ړومبنى آيت دى، چې د قتال په اذن کې راغلي دي:

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ۚ

حکم ورکړى شوى دى (د قتال) هغو کسانو ته چې قتال ورسره کاوه شي (د کفّارو له خوا) په دې سبب چې بېشکه په دوى ظلم شوى دى.

تفسير: تر هغه پورې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په مکّه معظّمه کې وو، نو مسلمانانو ته دا حکم شوى وو، چې د کفّارو په سختيو او تکليفونو باندې صبر وکړي، او لاس ور ونه غځوي، لکه چې مسلمانانو پوره تر ديارلسو کلونو پورې ډېر سخت تکليفونه او ظلمونه ومګالل (برداشت کړل)، او د کفّارو د زهره چوونکو ظلمونو او تېريو په مقابل کې يې بې مثاله صبر، استقامت او ثبات ښکاره کړ، کله چې مدينه منوره دار الاسلام ومګرځيد او د مسلمانانو يوه ډېره

ډله په دغه مستقل مرکز کې سره یو ځای شوه نو هغو مظلومو مسلمانانو نه چې کفارو به تل وربانديې ظلمونه کول او جنګونه به يې ورسره کول اجازه ورکړی شوه بلکه حکم ورته وشو چې دغه ظالمانو په مقابل کې توری وکاږی، او د خپلی ډلې او دين حفاظت په پوره غيرت سره وکړي.

وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ﴿٣٩﴾

او بېشکه چې الله په مرسته د دوی خامخا ښه قادر دی.

تفسير: يعنې ای مؤمنانو ! له خپل قلّت او بې سروسامانۍ څخه مه ډارېږئ، الله تعالی يوه ډېره وړوکې بې وسيلې ډله هم د دنيا د لويو لويو فوځونو او سلطنتونو په مقابل کې بريالی (کاميابه) کولی شي، په حقيقت کې دا په يو مالک الملکوتي طرز له مسلمانانو سره د نصرت او مرستې وعده ده.

الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا ۗ وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾

(دغه مظلومان مهاجران) هغه (کسان) دي چې ايستل شوي دي له کورونو خپلو په ناحقه سره، (او بل هيڅ سبب د اخراج نه وو مګر دا) چې ويل به دغو (مؤمنانو): رب ځمونږ (خالص يوائې) الله دی، او که چېرې نه وي دفع کول د الله خلقو لره ځينې د دوی لره په ځينو نورو باندې؛ خامخا نړولې شوې به وې صومعی، او کليساګانی او د يهودانو عبادتخانی او مسجدونه، چې ياداوه شي په هغو کې نوم د الله ډېر، او خامخا مرسته به وکړي هرومرو الله له هغه چا سره چې مرسته کوي (دين د) دغه (الله) سره، بېشکه چې الله خامخا قوي (د خپلو احکامو په تنفيذولو کې) ډېر زور والا دی (په هر چا).

تفسير: يعنې هغه مهاجر مسلمانان چې له خپلو کورونو څخه وويستل شول، د هغوی بل هيڅ جرم نه وو، او نه پرې چا څه دعوی درلوده، پرته له دې نه چې دوی ولې يو الله تعالی ته خپل رب وايي؟، او ولې خښتو او ډبرو ته سجدې نه کوي؟.

﴿وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ﴾ الآية ـ يعنې که په کوم وخت او کوم حالت کې هم يو جماعت ته د بل جماعت سره د جنګ او جګړې اجازه نه وی؛ نو دا مقدّس مقامات او مهم يادګارونه د تل لپاره د وجود له صفحې څخه محو او له منځه به يې لرې شوي وی، هيڅ يو معبد، تکيه، عبادتخانه، خانقاه، مسجد او مدرسه به محفوظه نه وی پاتې شوی، نو له دې کبله ضروري شوه، چې د بدی طاقتونه اګر که ډېر سره جمع هم شي؛ خو د قادر ذات له طرفه به داسې يو وخت راشي، چې د نېکی په مقدسو لاسونو سره به د بدی د حملې مدافعت وکړی شي، او الله تعالی به د خپل دين د مرستې کوونکو سره پخپله مرسته وکړي، او دوی به د حق او صداقت په وسيله په دښمنانو غالب کړي.

که د مدافعت او محافظت دغه قانون نه وی؛ نو په خپله خپله زمانه کې به نه د عيسايي راهبانو صومعې (حجرې) ودانې پاتې وی، او نه به د نصرانيانو بيع (کليساګانې) او نه به د يهوديانو صلوات (عبادتخانې) او نه به د مسلمانانو هغه مساجد چې د الله تعالی ذکر په کې ډېر زيات کيږي؛ پاتې وی، او دغه ټول معابد به نړول شوي او له منځه تللي وی، نو د دې عام قانون لاندې هيڅ داسې دليل نشته چې مسلمانانو ته په يو مناسب وخت کې د دوی د دښمنانو سره د جنګېدلو اجازه ورنه کړه شي.

ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ أَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُوا۟ بِٱلْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا۟ عَنِ ٱلْمُنكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلْأُمُورِ ﴿٤١﴾

(دغه مهاجر مظلومان) هغه کسان دي چې که چېرې قدرت ورکړو مونږ دوی ته په ځمکه کې (په دښمن باندې د غلبې په اعتبار)؛ نو قائموي دوی (سم اداء کوي به سره له ټولو حقوقو) لمونځ، او ورکوي به زکات، او امر حکم به کوي (خلقو ته) په معروف (په نېک شرعي کار) سره، او منع کوي به (خلق) له بد کار څخه، او خاص د الله په اختیار کې ده آخره خاتمه د ټولو کارونو.

تفسیر: دا یواځې د هغو مسلمانانو بیان دی چې پرې ظلمونه شوي دي، او له کورونو څخه ایستل شوي دي، یعنې الله تعالی به ولې له دوی سره مرسته نه کوي؟ کله چې دوی داسې یو قوم دی، چې که الله تعالی دوی ته د ځمکې د مخ سلطنت هم ورکړي؛ خو بیا هم دوی د الله تعالی له یاده نه غافلیږي، او پخپله هم په بدني او مالي نېکیو کې مصروف دي، او کوښښ کوي چې نور هم په همدغه سمه لاره برابر کړي، لکه چې پاک الله دوی ته د دې ځمکې حکومت ورکړ، او کومې وړاندوینې (پېشګویی) چې پخوا شوې وې؛ هغه ټکي ټکي رښتیا شوې: «فلله الحمد علی ذلک».

له دې آیت څخه د أصحابو کرامو رضي الله عنهم خصوصا د مهاجرینو او په هغو کې په أخص الخصوص د راشدینو خلفاوو رضي الله عنهم حقانیت، مقبولیت او منقبت ثابت شول.

﴿وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلْأُمُورِ﴾ یعنې که څه هم نن مسلمانان کمزوري او کفّار غالب او قوي ښکاري؛ لیکن دغه کار د الله تعالی په واک او اختیار کې دی، چې بالآخر مسلمانان په دوی غالب، منصور او بریالي (کامیاب) کړي.

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَثَمُودُ ﴿٤٢﴾ وَقَوْمُ إِبْرَٰهِيمَ وَقَوْمُ لُوطٍ ﴿٤٣﴾ وَأَصْحَٰبُ مَدْيَنَ ۖ وَكُذِّبَ مُوسَىٰ فَأَمْلَيْتُ لِلْكَٰفِرِينَ ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٤﴾

او که چېرې دروغجن وشمېري (دغه کفّار تا ای محمده ! نو مه خفه کېږه !) پس په تحقیق دروغجن شمېرلي وو (رسولان خپل) پخوا له دغه (قوم ستا) قوم د نوح، او (قوم د) عاد، او (قوم د) ثمود. او قوم د ابراهیم او قوم د لوط (انبیاوو خپلو لره). او اهل (د ښار) د مدین (شُعیب لره)، او دروغجن ګڼل شوی وو موسی (د مصري قبطیانو له خوا)، نو مهلت مې ورکړی وو کافرانو ته بیا (ناڅاپه) مې ونیول دوی (په عذاب سره)، پس څرنګه وو انکار ځما (په دوی په تغییر د نعمت سره؟).

تفسیر: یعنې دا کافران دي په دی نه مغروره کېږی چې دوی ته مهلت ورکړل شوي، پخوانی قومونو هم داسی د خپلو پیغمبرانو تکذیب کړي وو نو څه وخت چې ونیول شو نو وګورئ د هغوی حال څه شو.

فَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَٰهَا وَهِىَ ظَالِمَةٌ فَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ مَّشِيدٍ ﴿٤٥﴾

پس ډېر دي له کلیو (او ښارونو) څخه چې هلاک کړي دي مونږ (اهل د) هغو، حال دا چې دغه (اهل د هغې قریې) ظالمان وو (په نفسونو خپلو)، پس هغه (کلي) پریوتلي دي (دېوالونه یې د پاسه) په چتونو باموئو خپلو باندې، او ډېر کوهیان دي چې (ډک له اوبو) بېکاره پراته دي، او ډېرې مانۍ پخې لوړې (اوچتې) (تشې پاتې دي، او خاوندان یې هلاک شوي دي).

تفسير: يعني د خپلو بنسټونو (بنيادونو) د خوځېدلو په اثر اول يې چتونه ولوېدل، بيا يې د هوالونه ونړېدل، بيا ټولې ودانۍ پرې راولوېدې، او د چت ډېرې يې لا اوچتې کړې، دا يې د هغو د لاندې باندې کېدلو صورت وښود.

﴿وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ﴾ يعني هغه کوهيان چې پرې د اوبو د راويستونکو هجوم او ګڼه ګوڼه وه؛ نن هلته هيڅوک نشته، چې د هغو بوکې راوکاږي، او هغه ډېرې لويې لويې او پخې او هسکې ودانۍ چې په چونه، سېمټو او نورو پخو موادو سره ودانې شوې وې؛ خرابې او د ورانو کنډرو په شان پرتې دي، او هيڅوک په کې نه اوسيږي.

أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا أَوْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا ۖ فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَٰكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ ﴿٤٦﴾

آيا پس نه دي ګرځيدلي دوی (دغه کفار) په ځمکه کې، پس وي دوی لره زړونه چې فکر يې کولی په هغو (زړونو سره په بده خاتمه د کارونو)، يا (وی دوی لره) غوږونه چې خبرې يې اورېدلې دوی په هغو (غوږونو سره د کفارو د اهلاک، چې عبرت پرې واخلي)، پس قصه دا ده چې نه دي ړندې سترګې (ظاهري د دوی)، وليکن ړانده دي زړونه (د دوی) هغه چې دننه په سينو د دوی کې دي (ځکه چې پرې عبرت نه اخلي).

تفسير: يعني د دغو ورانو او تباه شوو ودانيو د کنډرو د ليدلو څخه هم هيڅکله دوی ته داسې يو فکر او چرت (خيال) پيدا نشو، او غور او اند ېښنه يې ونه کړه، چې د حق په لاره راشي، او په رښتيا خبره وپوهيږي، او زړونه يې بينا او غوږونه يې خلاص شي.

نو قصه دا ده چې که په سترګو يې وليدل، خو پخپلو زړونو کې يې پرې غور او فکر ونه کړ، نو دغه ليدل هم د نه ليدلو په شان دي، ګواکې د دوی ظاهري سترګې خلاصې دي، مګر باطني سترګې يې ړندې دي، او په حقيقت کې ډېر خطرناکه مرض د زړه ړوندوالی دی، (العياذ بالله).

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ وَعْدَهُ ۚ وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٤٧﴾

او بيړه (تلوار) کوي (کفّار) په تا په (راوستلو د) عذاب، او له سره به خلاف ونه کړي الله په خپله وعده کې، او بېشکه يوه ورځ په نزد د رب ستا (له ورځو د آخرت، اوږده ده) لکه زر کاله له هغو کلونو څخه چې شمېرئ يې تاسې (په دنيا کې).

تفسير: يعني مقرر عذاب په خپل ټاکلي وخت خامخا راتلونکی دی، او دغه بې ځايه شورماشور، استهزاء، تکذيب او د عذاب ژر غوښتل هيڅ يوه ګټه نه لري، «بېشکه يوه ورځ په نزد د رب ستا له ورځو دآخرت چې ورځې د عذاب د کفّارو دي؛ اوږده ده لکه زر کاله له هغو کلونو چې شمېرئ يې تاسې په دنيا کې»، يعني ستاسې يو زر کلونه د ده په نزد د يوې ورځې سره برابر دي، لکه چې نن مجرمين د ده په واک او اختيار کې دي؛ د زرو کلونو د تېرېدلو څخه وروسته هم داسې د ده په قبضه او اختيار کې دي، هيڅېرې ترې پټېدلی او تښتېدلی نه شي.

وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَمْلَيْتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ أَخَذْتُهَا ۖ وَإِلَيَّ الْمَصِيرُ ﴿٤٨﴾

او ډېر دي له (اهل د پخوانيو ښارونو او) کليو چې مهلت ورکړی وو ما دوی ته (په خپل رحمت سره) حال دا چې ظالمان وو، بيا ونيول ما هغه (ناڅاپه په سخت عذاب)، او خاص ماته راتله د هر چا دي (په آخرت کې د جزاء لپاره).

تفسير: يعنې آيا په مهلت ورکولو به هغوی چېرې وتښتي؟ يا به په کوم ځای کې پټ شي؟ بالآخر د ټولو رجوع او بېرته راتګ ځمونږ په لوري دی، مونږ دوی ټول ونيول او تباه مو کړل.

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَآ أَنَا۠ لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٩﴾

ووايه (ای محمده !) ای خلقو ! بېشکه همدا خبره ده چې زه تاسې ته ويرووونکی يم ښکاره (له جحيم څخه).

تفسير: يعنې ځما کار خبرول او ويرول دي، څو تاسې د فضائلو غوښتونکي او له رذائلو څخه په ډډه شئ، د عذاب نازلول ځما په اختيار کې نه دي، او هغه د الله تعالی په اختيار کې دی، هغه به د مطيع او عاصي په منځ کې فيصله وکړي، او هر يو به د هغه له حال سره سم مناسب ځای ته رسوي.

فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٥٠﴾

پس هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، او کړي يې دي ښه (عملونه)؛ شته دوی ته بښنه (د ګناهونو)، او روزي عزتناکه (چې جنت دی).

وَٱلَّذِينَ سَعَوْ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥١﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ وَلَا نَبِىٍّ إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ أَلْقَى ٱلشَّيْطَٰنُ فِىٓ أُمْنِيَّتِهِۦ فَيَنسَخُ ٱللَّهُ مَا يُلْقِى ٱلشَّيْطَٰنُ ثُمَّ يُحْكِمُ ٱللَّهُ ءَايَٰتِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٢﴾

او هغه کسان چې کوښښ کوي په (بطلان د) آيتونو ځمونږ کې په داسې حال کې چې عاجز کوونکي ځمونږ وي (د دوی پخپل ګمان)؛ همدغه کسان ملګري د دوزخ دي (چې تل به په کې سوځي). او نه وو لېږلی مونږ پخوا له تا (ای محمده !) هيڅ رسول او نه هيڅ نبي مګر په هغه وخت کې چې لوستل به يې کول، نو وبه غورځاوه شيطان په لوستلو د ده کې له ځانه خپله وسوسي او شکونه، پس لرې کوي الله هغه کلمې چې غورځولې دي شيطان، بيا محکموي الله آيتونه خپل، او الله ښه عالم (په ټولو احوالو) ښه حکمت لرونکی دی (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: د آيت په تفصيل کې اختلاف دی: ډېر بهتر او آسان تفسير هغه دی چې د هغه مختصر اصل له اسلافو څخه منقول دی، يعنې (تمنّي) د قرائت اوتلاوت په معنی واخيستل شي، مطلب دا چې له قديم راهيسې دغه عادت جريان لري، کله به کوم نبي يا رسول عليه السلام کومه خبره بيانوله، يا به يې د الله تعالی آيتونه اوروړل؛ شيطان به د ځينو خبرو په متعلق د ډېرو خلقو په زړونو کې ډول ډول وسوسې غورځولې، او رنګا رنګ شکونه او شبهې به يې پيدا کولې، مثلا رسول الله صلی الله عليه وسلم د ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةُ﴾ آيت ولوست، شيطان د خلقو په زړونو کې دا شبهه واچوله ،چې وګورئ د خپل لاس وژل شوی حيوان حلال بولي، او الله وژلی حرام ګڼي؟، يا چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه آيت ولوست: ﴿إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ﴾؛ شيطان په کې داسې شبهه وغورځوله چې په ﴿وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾ ملائکة الله، عيسی المسيح او عُزير عليهم السلام هم شامل دي، يا کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د مسيح عليه السلام په نسبت د ﴿وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلْقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِّنْهُ﴾ آيت ولوست؛ شيطان د خلقو په افکارو کې داسې مفکوره پيدا کړه چې له دې نه د مسيح عليه السلام ابنيت (ځوی ولی) او الوهيت ثابتيږي.

د دغه شيطاني القاء په ابطال او تردید کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی هغه بیّنات آیتونه واورول، چې بیخي صاف او محکم وو، او داسې پخې خبرې يې وروښودې؛ چې د هغو له اورېدلو څخه شک او شبهې ته له سره ځای او موقع پاتې نه شوه، ځکه چې د «متشابهاتو» د ظاهري سطح په بناء کومه اغواء او اخلال چې شیطان يې غورځوي؛ آیات محکمات د هغه بیخ او بنیاد وباسي، چې د هغو د اورېدلو څخه ټول شکونه او شبهې له منځه ورک او فناء کیږي.

دا دوه قسمه آیتونه ولې نازلولی شي؟ شیاطینو ته د دومره وسوسې اچولو او تصرّف موقع ولې ورکوله کیږي؟ او د داسې آیتونو هغه احکام چې وروسته توضیح کیږي؛ ولې په ابتداء کې نه تشریح کیږي؟ دغه ځکه امور د الله تعالی له غیر محدود علم او حکمت څخه نشأت کوي، الله تعالی دا دنیا علمًا او عملاً دار الامتحان ځکوله ده، لکه چې په داسې چارو سره د بندګانو آزمویښت کوي، چې څوک د خپل زړه د ناروغتیا یا د سختی له سببه د شکونو او د شبهو په خټو او جبو کې ننبلي؟ او کوم پوه عقلمن انسان د خپل علم او تحقیق په قوّت د ایمان لوړ مقام ته رسیږي؟.

رښتیا خبره خو دا ده که انسان په سمه نیت او ایمان داری او سمه عقیده سره پوهېدل وغواړي؛ نو پاک الله هم د ده مرسته کوي، او په سمه لاره يې بیايي، او ثبات او استقامت ورپه برخه کوي، پاتې شول منکرین او شک کوونکي؛ هغوی ته تر قیامته پورې هم ډاډ او اطمینان نه شي حاصلېدی.

ځمونږ په دې تقریر کې تر ډېره حده پورې د ډېرو آیتونو مطلب بیان شو، پوه خلق کولی شي چې ځمونږ د دې تقریر اجزاء د هغو آیتونو له اجزاوو سره بې تکلّفه تطبیق کړي، دا آیتونه لکه چې مونږ د (آل عمران) د سورت په ابتداء کې بیان کړي دي، له: ﴿هُوَ الَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَٰبَ مِنْهُ ءَايَٰتٌ مُّحْكَمَٰتٌ﴾ الآیة ـ سره ډېر مشابه دی، لکه چې په ﴿إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ أَلْقَى الشَّيْطَٰنُ فِيٓ أُمْنِيَّتِهِۦ﴾ کې د متشابهاتو او په ﴿ثُمَّ يُحْكِمُ اللَّهُ ءَايَٰتِهِۦ﴾ کې د محکماتو ذکر وشو، او په ﴿لِّيَجْعَلَ مَا يُلْقِى الشَّيْطَٰنُ فِتْنَةً﴾ الآیة ـ کې د زائغینو دوه قسمونه بیان شول، چې په هغو کې د ﴿لِّلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ﴾ کار د تأویل ابتغاء او د ﴿وَٱلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ﴾ غرض د فتنې ابتغاء ده، وروسته ﴿وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ﴾ الآیة ـ د ﴿وَٱلرَّٰسِخُونَ فِى ٱلْعِلْمِ يَقُولُونَ﴾ آیت په ځای وکښئ !، او هلته هغه دعا چې په ﴿رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا﴾ سره کړی شوې وه؛ دلته د هغې اجابت ذکر په ﴿وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ سره کړی شوی دی، او د ﴿رَبَّنَآ إِنَّكَ جَامِعُ ٱلنَّاسِ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ﴾ سره دغه آیت مناسب واقع شو: ﴿وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ﴾ إلى قوله: ﴿يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ﴾.

لِّيَجْعَلَ مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ فِتْنَةً لِّلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لَفِي شِقَاقٍ بَعِيدٍ ﴿٥٣﴾ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوا بِهِ فَتُخْبِتَ لَهُ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ اللَّهَ لَهَادِ الَّذِينَ آمَنُوا إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٤﴾

لپاره د دې چې وکړي (الله) هغه شی چې غورځوي يې شیطان ازمېښت لپاره د هغو کسانو چې په زړونو د دوی کې مرض (د شک او نفاق) دی، او (بل لپاره د هغو چې) سخت دي زړونه د دوی، او بېشکه ظالمان خامخا په مخالفت ډېر لرې کې دي (له حقه). او (دغه القاء د دې لپاره ده چې) په یقین سره پوه شي هغه کسان چې ورکړی شوی دی دوی ته علم، چې بېشکه دا قرآن حق دی له طرفه د رب ستا، پس ایمان به راوړي دوی په ده سره، نو نرم (آرام به شي انقیادًا) دغه قرآن ته زړونه د دوی، او بېشکه الله خامخا لاره ښوونکی دی هغو کسانو ته چې ایمان يې راوړی دی طرف د سمې صافې لارې (د اسلام) ته.

وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً أَوْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ ﴿٥٥﴾

او تل به وي هغه کسان چې کافران شوي دي په شک کې له دې (قرآنه يا له سمې لارې يا له رسوله)، تر هغه پورې چې راشي دوی ته قيامت ناڅاپه، يا راشي دوی ته عذاب د ورځې شنډې (سختې د قيامت چې د نجات هيڅ لاره په کې نه وي).

تفسير: يعنې مقصد په خپله د قيامت د هولناکې حادثې ناڅاپي رارسېدل، يا د قيامت د عذاب راتلل دي، او يا شايد د ﴿عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ﴾ څخه د دنيا عذاب مراد وي، يعنې په همدې دنيا کې به داسې سزا درکړه شي، چې په هيڅ صورت به ورڅخه خلاصېدل امکان ونه لري.

الْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ ۚ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ

ملک سلطنت په دغه ورځ د قيامت خاص الله ته دی، فيصله به کوي (په دغه ورځ کې) په منځ د دوی (د مؤمنانو او کفّارو کې).

تفسير: يعنې د قيامت په ورځ کې به يواځې د الله تعالى سلطنت او حکومت وي، او د بل هيڅا ظاهري او مجازي د حکومت نوم او نښان به نه وي، په هغه وخت کې به د ځمکې دنيا عملي فيصله کيږي، چې تفصيل يې دا دی:

فَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿٥٦﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ قُتِلُوا أَوْ مَاتُوا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللَّهُ رِزْقًا حَسَنًا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿٥٨﴾ لَيُدْخِلَنَّهُم مُّدْخَلًا يَرْضَوْنَهُ ۗ وَإِنَّ اللَّهَ لَعَلِيمٌ حَلِيمٌ ﴿٥٩﴾

پس هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، او کړي يې دي ښه (عملونه) په جنتونو د نعمتونو کې به وي. او هغه کسان چې کافران شوي دي، او نسبت د دروغو يې کړی دی آيتونو ځمونږ ته؛ پس دغه کسان شته دوی ته عذاب سپکوونکی. او هر هغه کسان چې خپل کورونه يې پريښي دي په لاره د الله کې (د جهاد، طاعت او د الله د رضاء لپاره) بيا ووژلی شي (په جهاد کې) يا مړه شي (پخپل مرګ)؛ نو خامخا روزي به ورکړي هرومرو دوی ته الله روزي نېکه (د جنّت)، او بېشکه الله خامخا هم دی غوره د (ټولو) روزي ورکوونکو دی. خامخا داخل به کړي (الله) هرومرو دوی په داسې يو ځای (د جنّت) کې چې خوښ به کړي دوی هغه (ځايونه د جنتونو)، او بېشکه الله خامخا ډېر عالم (په ټولو احوالو)، ښه حلم لرونکی دی (په تأخير د عقوبت لپاره د رجوع).

ذَٰلِكَ ۚ وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ مَا عُوقِبَ بِهِ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ لَيَنصُرَنَّهُ اللَّهُ ۗ

(خبره) همدا ده (لکه چې ومو ويله)، او هر هغه چې بدل واخيست په مثل د هغه (ضرر) چې معذّب شوی دی دی په هغه سره، بيا (دويم ځل) ظلم وکړ شي په ده باندې؛ نو خامخا مرسته به وکړي خامخا له ده سره الله.

تفسير: يعني كه مظلوم له ظالم څخه واجبي بدلې واخلي، بيا ظالم پرې بل ځلې ظلم وکړي؛ نو دی بيا هم مظلوم واقع شو، او الله تعالى به بيا ورسره مرسته وکړي، لکه چې عادت يې دی، بالآخر د مظلومانو حمايت کوي: «واتّق دعوة المظلوم فإنه ليس بينها وبين الله حجاب».

إِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ﴿٦٠﴾

بېشکه الله خامخا ښه عفو کوونکی دی (د تجاوزاتو) ډېر ښښونکی دی (د خطيّاتو).

تفسير: يعني بندګانو ته هم ښايي چې پخپلو شخصي او معاشراتو چارو او معاملاتو کې د عفوې او ښښنې عادت زده کړي، او هيڅکله دې د انتقام او بدل اخيستلو په فکر نه اوسي.

شاه صاحب رحمه الله ليکي: «يعني واجبي بدلې اخيستونکي ته الله تعالى عذاب نه ورکوي، که څه هم بدل نه اخيستل ښه او غوره کار دی، د کفّارو د اذيت بدل مسلمانانو له کفّارو څخه د «بدر» په غزا کې واخيست، ليکن کفّارو بيا په «أحد» او «أحزاب» کې په تيري او تجاوز لاسونه پورې کړل، چې بيا الله تعالى مسلمانانو سره پوره مرسته وکړه.

ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَأَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ﴿٦١﴾

دغه (نصرت په سبب د دې دی) چې بېشکه الله ننه باسي شپه په ورځ کې او ننه باسي ورځ په شپه کې (چې کله ورځ لنډه شپه اوږدوي، کله شپه لنډه ورځ اوږدوي)، او بېشکه الله ښه اورېدونکی دی (د ټولو اقوالو) ښه ليدونکی دی.

تفسير: يعني الله تعالى د دومره لوی قدرت او قوّت څښتن (مالک) دی، چې د شپې او ورځې اړول او راړول او د هغوی لنډول او اوږدول د ده په لاس کې دي، او يواځې د ده په حکم، اراده، او تصرّف کله ورځ اوږديږي، او کله شپه اوږديږي، نو آيا دغه مطلق قادر په دې باندې نه دی قادر چې يو مظلوم قوم يا شخص سره مرسته وکړي، او د ظالمانو له منګلو څخه يې خلاص کړي؟ بلکه دوی په هغوی باندې غالب، قاهر، قادر او مسلّط کړي، په دې آيت کې يې دې ته اشاره وکړه چې حالات ډېر ژر د شپې او ورځې په شان بدليدونکي دي، ځرنګه چې پاک الله د شپې تياره د ورځې په رڼا له منځه وړي، همداسې به د کفر او شرک ځمکې هم د اسلام په غېر کې ورکړي، او بېشکه چې پاک الله ښه اورېدونکی دی د ټولو اقوالو، ښه ليدونکی دی د ټولو اشياوو، يعني د مظلوم غږ او آواز هم اوري، او د ظالم چارې او اعمال هم وينې.

ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِ هُوَ الْبَاطِلُ وَأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ ﴿٦٢﴾

دغه (مرسته په دې ده چې) بېشکه الله همدی دی حق ثابت، او بېشکه هغه چې بولي يې (کفّار او عبادت يې کوي) بې له الله څخه؛ همدغه باطل دي، او بېشکه الله همدی (له ټولو څخه) ښه لوړ ښه لوی دی.

تفسير: يعني له الله څخه پرته داسې عظيم الشأن کارونه او انقلابونه د بل چا له لاسه پوره کېدی شي؟ بلکه نه شي، په واقع کې صحيح او رښتينی بر حق معبود همدغه يو الله تعالى دی، نور ټول معبودان بيخي غلط او له يوه سره زائل او ټول باطل دي، ښايي چې تاسې هم دغه واحد لا شريک ذات خپل الله وګڼئ، چې له ټولو څخه اعلى او اولى او ډېر ښه مولى دی، او دغه لوی شان په اتفاق سره د همدغه يو الله جل وعلا شأنه په ذات او صفاتو کې شته.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَتُصْبِحُ الْأَرْضُ مُخْضَرَّةً إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴿٦٣﴾

آيا نه وينې ته (نه يې خبر اى مخاطبه) چې بېشكه الله نازلې كړي دي له (طرفه د) اسمان څخه اوبه؛ پس ګرځي ځمكه (په دې اوبو سره) تكه شنه (پس له هغه چې وچه سپېره وه)؛ بېشكه الله ښه مهربان عالم دى په پټو تدابيرو، ښه خبردار دى (په ټولو شيانو).

تفسير: يعنې همداسې به د كفر او شرك وچه او شاړه ځمكه د اسلام په باران باندې شنه او سمسوره كړي، او هم هغه الله جل جلاله ښه پوهيږي، چې په څه شان د باران د اوبو په وسيله شينكي او نباتات زرغونيږي، او د ځمكې په دننه كې داسې تدبير او تصرّف كوي، چې د هغه په اثر وچه شاړه ځمكه د اوبو او نورو اجزاء ځان ته جذب او راكاږي، چې په دې ترتيب ځمكه شنه او سمسوره كيږي.

لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٦٤﴾

خاص همدغه (الله) لره دي هر څه چې په اسمانونو كې او هر څه چې په ځمكه كې دي (سره له اسمانونو او ځمكې خلقًا ملكا وعبيدًا)، او بېشكه الله خامخا هم دى غني بې پروا دى (له مخلوقاتو خپلو) ښه ستايلى شوى (په صفاتو او افعالو خپلو كې).

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَيُمْسِكُ السَّمَاءَ أَنْ تَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِ إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ ﴿٦٥﴾

آيا نه دى ليدلى تا (نه يې خبر اى مخاطبه) چې بېشكه الله مسخّر (تابع) كړي دي تاسې ته هر هغه چې په ځمكه كې دي، او (مسخّره كړې يې ده) بېړۍ چې ګرځي په سيند كې په حكم د هغه سره، او ساتي اسمان له دې نه چې راولويږي په ځمكه باندې مګر خو په حكم د هغه سره، بېشكه الله پر خلقو خامخا ښه نرمي كوونكى ښه مهربان دى.

تفسير: يعنې الله تعالى نه ستاسې او نه د بل چا څه پروا لرله، محض پخپل شفقت او مهربانۍ سره يې د وچې او لمدې، بحر او بر ټول شيان يې تاسې ته تابع او مسخر كړل، او همدغه الله تعالى په خپل قدرت سره اسمان، سپوږمى، لمر او ستوري په هوايي فضاء كې له كومې ظاهري ستنې معلّق ساتلي دي، چې له سره له خپله ځايه نه رابشكته كيږي، او نه رالويږي، او كه رالويدلي وى، يا يو د بل سره يې ټكر كړى وى، نو ستاسې ځمكې به يې ټوټې او ذرې كړي وى، څو چې د الله تعالى له خوا د نظام د بدلون حكم نه وي صادر شوى، تر هغه پورې به دغه ګردې كړي هم داسې پخپلو ځايونو قائمې وي، او مجال نه لري چې د يوه انچ په اندازه له خپل ځايه بې ځايه شي، د ﴿إِلَّا بِإِذْنِهِ﴾ استثناء محض د قدرت د اثبات د تأكيد لپاره ده، يا شايد د قيامت واقعې ته اشاره وي، (والله أعلم).

وَهُوَ الَّذِي أَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَكَفُورٌ ﴿٦٦﴾

او دغه (الله) هغه (قادر مطلق دى) چې (يې) ژوندي كړي يئ تاسې (په دركولو د روح سره پس له هغه چې نطفې وئ)، بيا به مړه كاندي تاسې (كله چې اجل مو پوره شي)، بيا به ژوندي كړي تاسې (په قيامت كې په بعث سره)، بېشكه انسان خامخا ناشكره دى.

تفسير: همداسې هغه قوم چې د کفر او جهل په روحاني مرګ سره مړه شوي وو؛ د ايمان او معرفت په روح سره به هغوی بيا ژوندي کړي.

(خو بېشکه انسان خامخا ناشکره دی د نعمتونو د الله تعالی) يعنې د دغومره احساناتو او انعاماتو په ليدلو سره هم د هغه حق نه مني، او قدر يې نه پېژني، او د هغه حقيقي منعم څخه مخ اړوي، او نورو ته خپل سر ټيټوي.

لِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا هُمْ نَاسِكُوهُ فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْأَمْرِ وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى مُسْتَقِيمٍ ﴿٦٧﴾ وَإِنْ جَادَلُوكَ فَقُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٦٨﴾ اللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٦٩﴾

لپاره د هر يوه امّت مقرره کړې ده مونږ يوه لاره د بندګۍ چې دوی عمل کوونکي دي د هغه، پس نه بنايي چې جګړه وکړي (دا خاوندان د اديانو) خامخا له تا سره په دې کار (دين) کې، (ځکه چې محمدي دين حق او ظاهر دی)، او بلنه کوه (د خلقو توحيد او عبادت د) رب خپل ته، بېشکه ته يې خامخا په (هغه) سمه صافه لاره (چې برابره تللې ده حق ته). او که جګړه کوي (په امر د دين کې کفّار) له تا سره؛ نو ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې الله ښه پوه دی په هغه (جګړه او عناد) چې کوئ يې تاسې. الله به حکم وکړي په منځ ستاسې کې په ورځ د قيامت په هغه شي کې چې وئ تاسې چې په هغه کې مو اختلاف کاوه (چې د دين امر دی).

تفسير: ټول انبياء د دين په اصولو کې سره متفق دي، هو ! د هر امّت لپاره الله تعالی د عبادت مختلف صورتونه په مختلفو زمانو کې ټاکلي دي، چې د هغو سره سم به هغو امّتونو د الله تعالی عبادت کاوه، لکه چې دې محمّدي امت ته هم يو خاص شريعت لېږل شوی دی، ليکن د دين اصل تل تر تله يو شي وو او دی، او پرته له الله تعالی څخه د بل هيڅا او هيڅ شي لپاره عبادت نه دی مقرر کړی شوی، نو ځکه په توحيد او نورو متفق عليه ديني مسائلو کې هيڅا ته نه دي لايق او نه د هغه له حال سره څه مناسبت لري چې څه اختلاف او څه جګړه وکړي.

کله چې کافران په داسې واضح او ښکاره شيانو کې هم دعوی او جګړې وکړي؛ نو تاسې د هغوی هيڅ پروا مه کوئ ! تاسې په هم هغې سمې صافې لارې باندې روان اوسئ، او نور خلق هم هغې ته راوبولئ ! او د معاندينو د جګړې فيصله الله تعالی ته وسپارئ ! چې هغه د دوی په ګردو حرکاتو ښه پوه او خبر دی، د قيامت په ورځ کې به د دوی د دغو ټولو اختلافونو او جګړو عملي فيصله وکړي، ته د دعوت او تبليغ فرض اداء کړه ! او د دوی په فکر کې ډېر سر مه خوږوه ! د داسې معاندينو علاج يوائې پاک الله سره دی.

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَابٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾

آيا نه پوهېږې ته (ای مخاطبه بلکه پوهېږې) چې بېشکه الله پوهيږي په هر هغه څه چې دي په اسمان کې او (هر هغه څه چې دي په) ځمکه کې، بېشکه دا (مذکوره شيان ليکل شوي دي) په کتاب (لوح محفوظ) کې، بېشکه دا (علم، ليکل د لوح محفوظ، فيصله د قيامت) په الله اسان دي.

تفسير: يعنې د الله جل جلاله علم د دوی په اعمالو کې څه منحصر نه دی، د الله تعالی علم خو د اسمان او ځمکې په ټولو شيانو باندې محيط دی، او د ځينو مصالحو او حکمتونو په بناء ټول واقعات د ده د علم سره سم په لوح محفوظ کې ثبت او محفوظ دي، او هم د انسانانو ټول اعمال د دوی په عملنامو کې ليکل شوي دي، چې له هغو سره سم به د قيامت په ورځ فيصله کيږي، او په دومره بې شمارو شيانو باندې په پوره ډول سره پوهېدل، او د هغو ټولو په ښه شان

سره ليکل، او د هغه سره مطابق د هر يوه فيصله صادرول؛ د دغو اجراء او انفاذ پاک الله ته هيڅ اشکال او سختي نه لري، او نه ده ته په دغو کارونو او نورو مشکلو چارو په کولو او تکميل کې (معاذ الله) څه تکليف او زحمت ورپيدا کيږي.

وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَمَا لَيْسَ لَهُمْ بِهِ عِلْمٌ ۗ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ نَصِيرٍ ﴿٧١﴾

او عبادت کوي (دغه کفّار) غير له الله د هغه شي چې نه دی نازل کړی (الله) په عبادت د هغه هيڅ سند، او د هغه شي چې نشته دوی ته په هغه باندې هيڅ علم دليل پوهه، او نشته ظالمانو ته هيڅ مرسته کوونکی (چې له عذابه يې خلاص کړي).

تفسير: دوی يواځې د خپلو پلرونو او نيکونو تقليد کې داسې کارونه کوي، چې هيڅ يو عقلي يا نقلي کوم برهان يا سند يا دليل پرې نه لري، (او نشته ظالمانو ته هيڅ مرسته کوونکی چې له عذابه يې خلاص کړي او) له ټولو څخه لوی ظلم او بې انصافي دا ده چې پاک الله سره کوم شريک ودرولی شي، نو داسې ظالمان او بې انصافان خلق دې ښه په ياد ولري، چې د دوی دغه شرکاء به د مصيبت په وخت کې هيڅ د دوی په ښه او کار ورنشي، او نه به په هغه وخت کې له دوی سره کومه مرسته وکړی شي.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ الَّذِينَ كَفَرُوا الْمُنْكَرَ ۖ يَكَادُونَ يَسْطُونَ بِالَّذِينَ يَتْلُونَ عَلَيْهِمْ آيَاتِنَا ۗ قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِنْ ذَٰلِكُمُ ۗ النَّارُ ۖ وَعَدَهَا اللَّهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿٧٢﴾

او کله چې ولوستل شي په دوی آيتونه (د قرآن) څمونږ په داسې حال کې چې صاف واضح ښکاره دي؛ نو پېژنې په مخونو د هغه کسانو کې چې کافران شوي دي (آثار د) انکار (له حق څخه چې بدشکلي او خفګان دی)، نژدې وي چې حمله وکړي (له ډېره قهره) په هغو کسانو چې لولي په دوی باندې آيتونه (د قرآن) څمونږ، ووايه (ای محمده ! دوی ته چې) آيا پس خبر کړم تاسې په ډېر بد له دې (قهره حملې) ستاسې (چې دغه) اور (د دوزخ) دی، وعده کړې ده د دې (اور) الله له هغو کسانو سره چې کافران شوي دي، او خامخا بد ځای د بېرته ورتلو دی (دا اور د دوزخ).

تفسير: يعنې د عظيم الشأن قرآن آيتونه چې په توحيد او نورو صافو بيانونو مشتمل دي؛ له اوربدلو څخه د کفّارو او مشرکينو رنګونه تور او شنه واوړي، او له ډېر خفګان نه يې څېرې بدلې شي، چې له ډېر قهر او غضب څخه ليونې شي، او غواړي چې د قرآن په لوستونکو حمله وکړي، لکه چې په ځينو وختونو کې داسې هم کوي.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُ ۚ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ لَنْ يَخْلُقُوا ذُبَابًا وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُ ۖ وَإِنْ يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا لَا يَسْتَنْقِذُوهُ مِنْهُ ۚ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ ﴿٧٣﴾

ای خلقو ! بيان شوی دی تاسې ته يو مثال (غريب، عجيب حال) پس غوږ کېږدئ تاسې هغه ته (چې دا دی): بېشکه هغه معبودان چې تاسې عبادت کوئ (د هغو) غير له الله نه؛ له سره نشي پيدا کولی يو مچ هم، او که راټول شي (دا ټول معبودان ستاسې پيدا کولو د) هغه مچ ته (نو پيدا به يې

نه کړی شي)، او که چېرې وتښتوي له دوی څخه مچ یو شی؛ نو نشي خلاصولی دوی هغه شی له هغه مچ څخه، نو کمزوری دی دا طالب (چې د باطلو معبودانو عابد دی)، او دا مطلوب (هم چې باطل معبود یا مچ دی).

تفسیر: دا یې د توحید په مقابل کې د شرک د بدۍ او قباحت د ظاهرولو لپاره مثال بیان کړ، چې ښایي هغه په ډېر ښه فکر او غور سره واوري، او ښه غوږ ورته کېږدئ، او ښه پرې وپوهېږئ !، ګوندې له داسې رکیک او ذلیل حرکت څخه مخ وګرځوئ او لاس ترې واخلئ !.

﴿إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ﴾ الآیة - یعنې مچ ډېر ادنی او حقیر ساکښ (جاندار) دی، په هغو شیانو کې چې دومره یو قدرت او قوت نه وي چې که ټول سره یوه ځای شي؛ یو مچ هم نشي پیدا کولی، یا که دغه مچ د دوی د نذرونو او نیازونو ځنې یو وړوکی شی (لکه د ګلانو او عطریاتو یا د شاتو یا د نورو کوم بخرکی ترې) وتښتوي؛ نو د دوی له لاسه نه کیږي، چې هغه ترې بېرته واخیستی شي، ښه نو د ځمکې او اسمانونو د خالق په ځای (نعوذ بالله) د الوهیت په تخت باندې د داسې عاجزو او ناتوانو معبودانو کښول څومره حماقت او بې حیایي ده، رښتیا خبره خو همدا ده چې مچ هم کمزوری دی، او له مچ نه زیات کمزوري د دوی معبودان دي، او له معبودانو څخه زیات کمزوري د هغوی عبادت کوونکي دي، چې دوی داسې حقیر او کمزوری شی خپل معبود او حاجت تر سره کوونکی ګرځولی دی.

مَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٧٤﴾

نه دی پېژندلی (دغو کفّارو) او نه یې دی تعظیم کړی د الله په حق پېژندلو او تعظیم د ده سره، بېشکه الله خامخا ښه قوي زورور ډېر زبردست دی (په تنفیذ د احکامو خپلو کې).

تفسیر: که پوهیدی نو داسې سپین سترګي به یې ولې کوله؟ آیا د الله تعالی رفیع شأن او قدر او منزلت دومره دی چې داسې کمزوري شیان د هغه سیال او شریک وګرځولی شي (العیاذ بالله)، د الله تعالی د قوّت او عزّت په مقابل کې خو د هغه لویې لویې مقربې پرښتې او انبیاء علیهم السلام هم مجبور او ناتوان دي، چې اوس په لاندې متبرک آیت کې د هغوی ذکر راځي.

اللَّهُ يَصْطَفِي مِنَ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا وَمِنَ النَّاسِ ۚ

الله غوره کوي له پرښتو څخه استاځي (چې واسطه کیږي په منځ د الله او انبیاوو کې)، او له خلقو څخه (هم غوره کوي استاځي).

تفسیر: له ځینو پرښتو څخه د رسالت کار اخلي، مثلاً د جبرئیل علیه السلام او له ځینو انسانانو څخه چې پاک الله د دغه منصب لپاره انتخاب کړي؛ همدغه د رسالت کار اخلي، ښکاره ده چې د هغوی درجه د نورو خلقو څخه ډېره لوړه (اوچته) ده.

إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ﴿٧٥﴾

بېشکه الله ښه اوریدونکی دی (د ټولو اقوالو) ښه لیدونکی دی (د ټولو افعالو).

تفسیر: یعنې الله تعالی د دوی په ټولو خبرو خبر دی، د دوی د ماضي او مستقبل ټول احوال وینې، نو ځکه هغه حق لري چې د هر چا احوال او استعداد ته وګوري، او سم له هغه سره یې د رسالت په منصب فایز او بریالی کړي: ﴿اللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ﴾ (۸ جزء د الأنعام سورت (۱۲۴) آیت (۱۵) رکوع).

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۗ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٧٦﴾

پوهيږي (الله) په هغه څه چې وړاندې د دوی دي، او په هغه چې وروسته د دوی دي، او خاص د الله طرف ته بېرته ګرځولی کيږي ټول کارونه.

تفسير: يعنې خاص الله تعالى ته بېرته ګرځولی شي ټول کارونه، او هيڅوک د الله تعالى په کارونو کې د اعتراض حق نه لري، د الله تعالى حکم، تدبير، د انبياوو انتخاب او نور ټول کارونه ښه دي، او د ده په حکم او اراده سره کيږي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٧٧﴾

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) رکوع کوئ تاسې ! او سجده کوئ تاسې ! (په لمانځه کې)، او عبادت کوئ تاسې ! د رب خپل (نه د بل)، او کوئ نېک کارونه (لکه صله رحمي او ښه اخلاق) لپاره د دې چې بری ومومئ (په نعمت او جنّت سره).

تفسير: د شرک د غندنې او د مشرکانو د سپکونې څخه وروسته مؤمنانو ته خطاب کوي، چې تاسې يواځې د خپل يوه الله تعالى په بندګی لګيا اوسئ ! او د هغه په حضور کې د بندګی سرونه ښکته کړئ ! او د عبوديت او عاجزی وچولی (تندی) مو هم هغه ته په ځمکه کېږدئ ! او نور د ښېګڼې ټول کارونه هم خاص د الله تعالى لپاره کوئ، څو دنيوي او اخروي ښېګڼې او نېکی مو په برخه شي.

ځينې مفسرين د دې آيت د رکوع او سجدې له دغه تخصيص څخه د تلاوت سجده مرادوي.

وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ ۚ هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ ۚ مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ ۚ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ وَفِي هَٰذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ ۚ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَاعْتَصِمُوا بِاللَّهِ ۖ هُوَ مَوْلَاكُمْ ۖ فَنِعْمَ الْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ النَّصِيرُ ﴿٧٨﴾

او زيار (کوښښ) کوئ په (لاره د جهاد، طاعت، او رضاء د) الله په حق جهاد د هغه سره (چې ورته وړ، مستحق، او لايق دی)، دغه (الله) غوره کړي يئ تاسې، او نه يې دی ګرځولی (نه يې دی اېښی) په تاسې په دين کې هيڅ حرج (مشقّت او اشکال)، (متابعت وکړئ د) دين د پلار خپل چې ابراهيم دی، دغه (الله) ونومولئ تاسې مسلمانان پخوا (له دغه قرآن څخه په نورو اسماني کتابونو کې)، او په دغه (قرآن) کې (هم)، لپاره د دې چې شي رسول (ستاسې) شاهد په تاسې (د تبليغ خپل)، او چې شئ تاسې (ای مسلمانانو !) شاهدان په نورو خلقو (د تبليغ د نورو انبياوو)، نو قائموئ (سم اداء کوئ تاسې سره له ټولو حقوقو) لمونځ، او ورکوئ تاسې زکات، او ښه ټينګ ونيسئ تاسې (دين د) الله، دغه (الله) مالک دی ستاسې، پس ښه مالک دی (الله)، او ښه مرسته (مدد) کوونکی دی الله.

تفسير: د خپل نفس د تهذيب او د دنيوي چارو د سمون لپاره داسې پوره زيار (کوښښ) کوئ، چې د دې لوی او اهمّ مقصود سره موافق وي، آخر د دنيوي مقاصدو د بري او کاميابي لپاره تاسې څومره تکليفونه او زحمتونه په ځان اخلئ، دا خو د دين او د آخرت د دائمي بري او کاميابي لاره ده، چې په هغې کې هر څومره زحمت او محنت وومئ؛ بيا هم د انصاف له مخې کم دی.

تنبیه: د «مجاهده» په لفظ کې هر قسم کوښښونه، د ژبې وي، که د قلم، مالي وي که بدني؛ شامل دي، او هم د «جهاد» تمام اقسام، جهاد مع النّفس، جهاد مع الشیطان، جهاد مع الکفّار، جهاد مع البغاة، جهاد مع المبطلین؛ د هغه لاندې داخل دي.

﴿هُوَ اجْتَبٰىكُمْ﴾ یعنې له ټولو څخه اعلی او افضل رسول او له ټولو شرائعو څخه یې اکمل شریعت درکړ، او په تمامه دنیا کې د الله تعالی د پیغام رسولو لپاره یې تاسې غوره او منتخب کړئ ! او په ګردو امّتونو باندې یې تاسې ته فضیلت دروبښه.

﴿وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ﴾ یعنې په دین کې یې هیڅ داسې یو اشکال نه دی پرېښی، چې د هغه کول سخت او مشکل وي، په احکامو کې یې د هر ډول رخصتونو او آسانیو لحاظ ساتلی دی، دا خو بېله خبره ده چې تاسې یو آسان کار په خپل ځان مشکل وګرځوئ.

﴿مِلَّةَ اَبِيْكُمْ اِبْرٰهِيْمَ﴾ متابعت وکړئ ! ای مؤمنانو د دین د پلار خپل چې ابراهیم علیه السلام دی، کله چې ابراهیم علیه السلام د محمد مصطفی صلی الله علیه وعلی آله وصحبه وسلّم په اجدادو کې شامل دی؛ نو ځکه د ګرد امّت پلار شو، یا به دا مراد وي چې د عربو پلار دی، ځکه چې د قرآنکریم ږومبني مخاطبان هم دوی وو.

﴿هُوَ سَمّٰىكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ﴾ دغه الله تعالی یا ابراهیم علیه السلام ونومولئ تاسې مسلمانان، یعنې الله تعالی په پخوانیو کتابونو او په دې عظیم الشأن قرآن کې ستاسې نوم «مسلم» ایښی دی، چې معنی یې حکم منونکي، وفا خوښوونکي دي، یا ابراهیم علیه السلام له پخوا څخه ستاسې نوم د مسلمان ایښی دی، کله چې پخپله دعاء کې یې ویلي وو: ﴿وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَآ اُمَّةً مُّسْلِمَةً﴾ د (البقرة سورت (۱۵) رکوع)، او په قرآن کې هم ښایي د همده په غوښتنه دغه نوم په تاسې ایښود شوی دی، په هر حال ستاسې نوم «مسلم» دی، اګر که نور امتونه هم مسلمانان وو، مګر دغه لقب ستاسې لپاره غوره او ټاکل شوی دی؛ نو ښایي پرې فخر وکړئ.

﴿لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ شَهِيْدًا﴾ یعنې تاسې یې د دې لپاره غوره کړئ چې تاسې نورو امّتونو ته ښوونه وکړئ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسې ته ښوونه وکړي، او دغه امّت چې له ټولو څخه وروسته راغلی دی، غرض یې دا دی چې دی د نورو امّتونو غلطی اصلاح کړي، او ګردو ته سمه صافه لاره وښیي، ګواکې هغه مجد او شرف چې د ده په برخه شوی دی؛ له همدې وجه دی چې دی د ګردې (ټولې) دنیا معلم (لار ښوونکي) وګرځي او په تبلیغي جهاد کې مصروف واوسي.

تنبیه: نورو مفسرانو (شهیداً) او (شهداء) د شاهد او ګواه په معنی اخیستی دی، کله چې د قیامت په ورځ کې نور امّتونه انکار وکړي، چې انبیاء الله علیهم السلام مونږ ته تبلیغ نه دی کړی، او له انبیاوو څخه شاهدان وغوښتل شي؛ نو دوی به محمّدي أمّت د شاهد په ډول ور وړاندې کړي، او دغه امّت به داسې شاهدي اداء کړي: «بېشکه چې دغو انبیاوو علیهم السلام د دعوت او تبلیغ وظائف انجام کړي دي، او د الله تعالی حجّت یې قائم کړی دی»، کله چې له دوی ځنې پوښتنه وشي چې دا خبره تاسې ته څرنګه معلومه شوه؟ نو ځواب به ورکړي چې «دغه اطلاع مونږ ته ځمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم راکړې ده، چې د ده په صداقت باندې د الله تعالی محفوظ کتاب قرآنکریم شاهد دی»، ګواکې دغه فضل او شرف یې ځکه درکړی دی، چې تاسې په یوې عظیم الشأنې دعوی کې د یوه معزّز شاهد او ګواه په شان درېدونکي یئ، لیکن ستاسې د دغې شاهدۍ اوږدل او اهمیت هم ستاسې د معظّم رسول په واسطی سره دي، چې هغه به ستاسې تزکیه کوي.

"تمت سورة الحجّ بفضله ومنّه، فله الحمدُ وعلي نبيّه الصلاةُ والتسليم ".

سُورَةُ المُؤمِنُونَ

«د (المؤمنون) سورت مکّي دی، (۱۱۸) آیتونه (۶) رکوع لري، په تلاوت کې (۲۳) او په نزول کې (۷۴) سورت دی، وروسته د (الأنبياء) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١﴾ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ ﴿٢﴾

په تحقیق بریالي (بهرمن ـ کامیاب) شوي دي مؤمنان. هغه (مؤمنان) چې دوی په لمونځونو خپلو کې عاجزي کوونکي ویریدونکي دي (له الله نه).

تفسیر: د «خشوع» معنی دا ده چې د بل چا په مخ کې په خوف او هیبت سره ساکن او سرښکته کړي، لکه چې ابن عباس رضي الله عنهما د ﴿خَاشِعُونَ﴾ تفسیر په «خائفون ساکنون» سره کړی دی، او د ﴿تَرَى الْأَرْضَ خَاشِعَةً فَإِذَا أَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ﴾ آیت هم دلالت کوي چې په «خشوع» کې یو قسم سکـون او تذلّل معتبر دی.

په قرآنکریم کې «خشوع» د «وجوه ـ أبصار ـ أصوات ـ اونورو» صفت ښودلی شوی دی، او په دغه آیت کریمه د ﴿أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ﴾ کې د قلب صفت ښوولی شوی دی، معلومیږي چې اصلاً «خشوع» د زړه کار دی، او د نورو بدني أعضاوو خشوع د زړه د خشوع تابع ده، کله چې په لمانځه کې قلب خاشع، خائف، ساکن او ښکته شي؛ نو خیالات هم د دې خوا او د هغې خوا د مشغولتیا او ګرځېدو څخه فارغ او په هم هغه یو مقصود باندې ټینګ ودریږي، نو بیا د خوف، هیبت، سکون، خضوع او خشوع آثار پر بدن هم ظاهریږي، مثلاً د اوږو، سر، او سترګو ښکته غورځول، په ادب سره درېدل، دې خوا او هغې خوا ته نه کتل، له خپلو کالیو (جامو) او ویښتو او نورو شیانو سره لوبې نه کول، د ګوتو نه ټرکول، او په دې قسم د «خشوع» د لوازمو څخه نور افعال او احوال هم شته.

په احادیثو کې د أبو بکر الصدّیق رضي الله تعالی عنه او عبد الله بن الزّبیر رضي الله تعالی عنه څخه منقول دي، چې دوی به په لمانځه کې داسې ساکن او آرام وو، لکه یو بې ساه لرګی، او ویل کېده چې دغه د لمانځه خشوع ده.

وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ ﴿٣﴾

او هغه (کسان هم بهرمن شول) چې دوی له ناکارو (بدو اقوالو بدو افعالو) څخه مخ ګرځوونکي دي.

تفسیر: یعنې په فضولو او بېکارو مشاغلو کې خپل وخت نه ضایع کوي، که کوم بل سړی لغو او چټي (بېکاره) او مهملې خبرې یا افعال کوي؛ نو د هغو له اورېدلو او کتلو څخه مخ اړوي، او ده ته د عبودیت د وظائفو له ایفاء کولو څخه دومره وخت او فرصت نه وي میسّر چې په دغسې بې فائدې جګړو او فضولو خبرو کې ځان اخته کړي.

وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ ﴿٤﴾

او هغه (کسان هم بهرمن شول) چې دوی (تل) د زکات اداء کوونکي دي (چې د مالي فعلي او قولي عباداتو جامع دی).

تفسير: يعني دغه د دوی عادت دی چې تل زکات اداء کوي، او داسې نه دي چې کله يې ورکوي او کله يې نه ورکوي، غالبًا له همدې جهته د ﴿وَيُؤْتُونَ الزَّكَوٰةَ﴾ په ځای يې د ﴿لِلزَّكَوٰةِ فَٰعِلُونَ﴾ ترکيب اختيار فرمايلی دی، ځکه چې دا يې ښودلي دي چې د زکات اداء د دوی مستمر کار دی، ځينو مفسرينو دلته زکات د طهارت او پاکيزګۍ يا د نفس د تزکيې په معنی اخيستی دی، ځکه چې دغه آيت يې د ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ﴾ او د ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا﴾ په شان ګرځولی دی، که دغسې مراد وي؛ نو د هغه مفهوم دې عام کښبود شي، چې په هغه کې د بدن، د زړه، او د مال پاک ساتل ګرد داخل شي، زکات او صدقات هم يو قسم مالي تطهير دی: ﴿خُذْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا﴾ (١١ جزء د التوبة سورت (١٣) رکوع (١٠٣) آيت)، د داسې ويلو چې دغه آيت مکي دی، او په مکې معظمې کې لا زکات نه وو فرض شوی، ابن کثير رحمه الله جواب داسې ورکړی دی چې: د زکات اصلي مشروعيت په مکه کې شوی وو، هو ! د هغه د مقاديرو او نصابونو او نورو تشخيص وروسته د مدينې منورې له راتګه وشو، والله أعلم.

وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَٰفِظُونَ ۝٥ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ۝٦ فَمَنِ ابْتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْعَادُونَ ۝٧

او هغه (کسان هم بهرمن شول) چې دوی فروجو (ځای د شهواتو) خپلو لره ساتونکي دي (له زنا ځخه). مګر پر ښځو خپلو يا پر هغو وينځو چې مالکان شوي وي د هغو ښي لاسونه د دوی، پس بېشکه دوی نه دي ملامت کړی شوي (په ورتلو سره ښځو او وينځو خپلو ته). پس هر څوک چې وغواړي (دفع د شهوت) غير له دغو (ښځو او وينځو خپلو) نه پس دغه کسان هم دوی دي تجاوز کوونکي (له حده).

تفسير: يعني له خپلې منکوحې ښځې يا وينځې ځخه ماسوا بله کومه لاره د شهوت د قضاء لپاره ولټوي؛ نو دی د حلالو له حدودو وتونکی دی، په دې کې زنا، لواطت، او استمناء بالید (د لاس په وسيله د ځان نه منی ويستل) او نور ټول غير مشروعه صورتونه راغلل، بلکه ځينو مفسرينو د «متعه» پر حُرمت هم پر همدغه آيت استدلال کړی دی.

وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَٰنَٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَٰعُونَ ۝٨

او هغه (کسان هم بهرمن شول) چې دوی امانتونو خپلو لره او عهدونو خپلو ته (که د خالق که د مخلوق) رعايت کوونکي دي (چې بېوفايي او خيانت په کې نه کوي).

تفسير: يعني د امانت او قول او اقرار حفاظت کوي، خيانت او بد عهدي نه کوي، نه د الله تعالى په معاملاتو کې، او نه د بندګانو په چارو کې.

وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَٰتِهِمْ يُحَافِظُونَ ۝٩

او هغه (کسان هم بهرمن شول) چې دوی (همېشه) پر لمونځونو خپلو ساتنه کوي (چې تل يې سم اداء کوي سره له ټولو حقوقو).

تفسير: تر دې ځايه پورې يې د مفلحينو مؤمنينو شپږ صفات او خصال بيان وفرمايل:

(١): سره له خضوعه او خشوعه د لمونځونو اداء کول.

(٢): د باطلو، لغوو، او بېباکو خبرو او ناکارو کارونو ځخه ځان بېل ساتل.

(٣): د زکات يعني مالي حقوق اداء کول، يا خپل نفس او مال پاک ساتل.

(۴): نفساني شهوات پخپل واک او اختيار کې ساتل.

(۵): د عهد او امانت حفاظت يعنې د ځکردو (ټولو) معاملاتو درست او منظم ساتل.

(۶): او په آخر کې يې بيا د لمونځونو د قيام تأکيد وفرمايه.

له دې نه ظاهريږي چې د لمانځه حق د الله تعالى په نزد ډېر لوړ او اعلى څيز دى، چې دلته يې خپله خبره پر هم هغه باندې شروع او پر هم هغه باندې يې ختمه کړه.

أُولَٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ ﴿١٠﴾ الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١١﴾

همدغه (مؤمنان موصوف په دغو شپږو واړو صفاتو) هم دوى دي وارثان، هغه (وارثان) چې مېراث به اخلي (ويړيا اعلى جنت د) فردوس (د دوزخيانو برخه به هم اخلي)، دوى په دغه (جنت الفردوس) کې تل پاتې کېدونکي دي.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن سُلَالَةٍ مِّن طِينٍ ﴿١٢﴾

او قسم دى خامخا په تحقيق پيدا کړى دى مونږ انسان (آدم) له خالصې (صافې له خيرې ويستلې شوې) خټې نه.

تفسير: ځکه چې ځمونږ د ټولو پلار آدم عليه السلام له منتخبې او غوره کړى شوې خاورې څخه پيدا کړى شوى دى، او برسېره پر هغه تمام بني آدمان له نطفې څخه پيدا کيږي، چې دغه نطفه هم له ځمکې څخه بالوسيله متشکله کيږي، چې د منتخبو اوغوره کړيو شيانو خواړه او د اغذيه وو عصاره او خلاصه ده.

ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿١٣﴾

بيا وځکرځاوه کښبود مونږ (اولاده د) دغه (آدم) نطفه (ترلى څاڅکى د مني) په يو قرارځاى محکم (رحم کې).

تفسير: يعنې د مور په رحم کې چې له هغه ځايه بل هيڅېرې نشي خوځېدلى.

ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ ۚ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ ﴿١٤﴾

بيا وځکرځوله مونږ دا نطفه ټوټه د وينو (کلکه سرېښناکه)، بيا وځکرځوله مونږ دغه ټوټه د وينو يوه وړه ټوټه د غوښو، بيا وځکرځوله مونږ دا پوتې د غوښو هډوکى، بيا ور واغوستله مونږ دې هډوکو ته (پس له پيدا کولو د رګونو او د پلو او نورو) غوښه، بيا مو (ژوند) پيدا کړ دى په پيدايښت بل سره (په نوي صورت)، پس ډېر ښه برکت اچونکى دي الله تعالى لوړ چې ډېر ښه پيدا کوونکى (صورت ترونکى) دى، (له نورو ټولو پيدا کوونکيو، صورت ترونکيو څخه خلقًا).

تفسير: يعنې د غوښې يوه برخه کلکوي، او ترې هډوکي جوړوي، او د هډوکو پر قفس (ډانچه) او سلسله رګونه، پلې، تارونه او د بدن نور څيزونه چې ورته حاجت وي د پيدا کولو څخه وروسته غوښې او پوستکي زرغونوي، پخوا له دې په (۱۷ جزء د الحج سورت په (۱) رکوع) کې د انسان د تخليق هم دغه کيفيت بيان کړى شوى دى.

﴿ثُمَّ أَنشَأْنَٰهُ خَلْقًا ءَاخَرَ﴾ - «بيا مو ژوندی پيدا کړ دی په پيدايښت بل سره (په نوي صورت)»، يعنې د روح د پوکولو په سبب يې له دې نه يو ژوندی ويښ انسان جوړ کړ، چې پر دغه ذي روح انسان وروسته له دې نه د طفوليت (ماشوموالي)، شباب (ځوانی)، کهولت (پوخ عمر)، او شيخوخت (بوډاوالي) ډېر احوال او ادوار او مراحل تيريږي، يا دا چې اول جماد وو، اوس يې حيوان کړ، پخوا رُوند، کوټ، ګونګ وو، اوس يې ليدونکی، اوربدونکی، ويونکی کړ.

فائده: سره له دې چې الله تعالی د تمامو موجوداتو خالق دی، يعنې ځمکې، اسمانونه، عرش، کرسي، لوح، قلم، جن، ملائک، لمر، سپوږمی، ستوري، جبال، بحار، اشجار، انهار او داسې نور ډېر أشياء يې پيدا کړي دي، مګر په هيڅ يوه باندې يې داسې ثناء په ذات پاک خپل ونه ويله لکه چې په پيدا کولو د انسان، له دې نه دا خبره معلومه شوه چې انسان ورته ډېر معزّز او مکرّم دی، ځکه يې فرمايلي دي: ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِىٓ ءَادَمَ﴾ الآية - خامخا په تحقيق کرامت عزت ورکړی دی مونږ ځامنو د آدم ته.

ثُمَّ إِنَّكُم بَعْدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ﴿١٥﴾

بيا بېشکه تاسې پس له دې ژوندي کولو د تاسې (په دغه پاس طريقه سره) خامخا مړه کيدونکي يئ.

تفسير: يعنې ستاسې وجود ذاتي او خانه زاد نه دی، بلکه مستعار او د الله تعالی عطاء او بخشش دی، لکه چې د موت په لېږلو سره د هغه ګردې نقشې ورانوي، او تاسې په هغه وخت کې د مرګ له زورورو او قوي منګولو ځخه خپل ژوندون نشئ ساتلی، نو معلوم شو چې بل کوم قاهر قوت او قدرت ستاسې پر سرونو شته؛ چې ستاسې د وجود ژوندون او بقاء زمام يې ټينګ په خپل قدرت کې نيولی دی، او هر وخت چې اراده او مشيت وفرمايي؛ هغه پرېږدي او خوشې کوي يې، يا يې بېرته راکاږي، فسبحان الله أحسن الخالقين.

ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ تُبْعَثُونَ ﴿١٦﴾

بيا بېشکه تاسې په ورځې د قيامت کې بيا ژوندي راپاڅولی شئ (له قبورو لپاره د جزا).

تفسير: هغه لوی ذات چې اول ځلي يې پيدا کړی وو؛ هم هغه دويم ځلي هم بيا ژوندی راپاڅوي، لومړی د وجود مستور قوتونه او د اعمالو نتائج پخپل ډېر کامل صورت سره ظاهر او دغه په اثبات رسوي، چې دومره يوه لويه کارخانه مې خوشې چټې (بېکاره)، بې نتيجې، عبث او د لوبو او ساعت تېری لپاره نه وه جوړه کړې.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ ﴿١٧﴾

او خامخا په تحقيق پيدا کړي دي مونږ ستاسو د سر د پاسه اووه لاړې (۷ اسمانونه).

تفسير: د ﴿طَرَآئِقَ﴾ معنی ځينو مفسّرينو او لغويينو په نزد «طبقات» ده، يعنې د اسمان اوه طبقې مو لاندې باندې جوړې کړي دي، فهذا کما قال: ﴿كَيْفَ خَلَقَ ٱللَّهُ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ طِبَاقًا﴾ (۲۹ جزء د نوح سورت (۱۵) آيت (۱) رکوع)، او ځينې د ﴿طَرَآئِقَ﴾ معنی لاړې اخلي، يعنې اوه لاړې مو جوړې کړي دي، چې د پرښتو د تللو او راتللو معبرې دي.

وَمَا كُنَّا عَنِ ٱلْخَلْقِ غَٰفِلِينَ ﴿١٧﴾

او نه يو مونږ له (ټولو احوالاتو د) مخلوقاتو (خپلو ځخه) غافله بې خبره.

تفسير: يعني هر څيز مو په پوره انتظام او محکموالي او خبرداري سره جوړ کړي دي، او د ده د حفاظت او بقاء له طريقو څخه مونږ پوره باخبره يو، په سماويه وو اجرامو او سفليه وو مخلوقاتو کې يو داسې څيز هم نشته دی؛ چې ځمونږ د علم او قدرت له احاطې څخه خارج وي، که نه دغه ټول نظم ترتيب او تنسيق سره ګډوډ او خراب تراب کيږي: ﴿يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا﴾ (۲۷ جزء د الحديد سورت (۴) آيت (۱) رکوع).

وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّاهُ فِي الْأَرْضِ ۖ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍ بِهِ لَقَادِرُونَ ﴿۱۸﴾

او نازلې کړې دي مونږ له (طرفه د) اسمانه اوبه په اندازه، نو ومو درولې دغه (اوبه) په ځمکه کې، او بېشکه مونږ په بيولو ورکولو د دې (اوبو) خامخا قادر يو (لکه چې قادر يو په نازلولو يې هم).

تفسير: يعني رابښته کړي دي مونږ له لوري د اسمانه اوبه په هغه مېچ چې د مخلوقاتو ښېګڼه په کې وينو، نه دغومره زياتې چې بې وقته او بې موقعه تباه او توی لاړې شي، او نه دومره لږې مو درکړي دي چې ستاسې ضروريات ته کفايت ونه کړي.

﴿فَأَسْكَنَّاهُ﴾ الآية ـ يعني ځمکه د باران اوبه پخپل منځ کې ځبيښي، او جذب کوي يې، چې بيا مونږ دغه اوبه ترې د کاربزو کوهيو او برمو او نورو په وسيله راوباسو، او ترې استفاده کوو، يا پخپله دغه اوبه د چينو او زېمونو ځمکو په وسيله بهيږي (يا يې دروو د ځمکې په سر هم په تالابونو ډنډونو او نورو ظرفونو کې).

﴿وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍ بِهِ لَقَادِرُونَ﴾ الآية ـ يعني که باران دربانديې ونه وروو؛ نو څوک به يې دربانديې اوروي؟ او که يې در باندې اوروو، خو د شرب ارواء (خړبولو) او د استفادې وسائل او وسائط در څخه واخلو، او تاسې ته داسې قوّت او قدرت در نه کړو، چې ترې ګټور (فائده مند) شئ (مثلاً دومره يې ژورې بوځو، چې تاسو يې ونه شئ ايستلی، يا يې ژر تر ژره وچې او بيا يې په هوا کې ګډې کړو، يا يې تروې او خُوسا کړو، دغه کارونه او نورې ټولې چارې ځمونږ له قدرته پوره دي، نو ستاسې له لاسونو څخه څه پوره دي، او څه به کولی شئ؟.

فَأَنْشَأْنَا لَكُمْ بِهِ جَنَّاتٍ مِنْ نَخِيلٍ وَأَعْنَابٍ لَكُمْ فِيهَا فَوَاكِهُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿۱۹﴾

پس پيدا کړي دي مونږ تاسې ته په دې (اوبو) سره باغونه رنګارنګ له خرماګانو او (له) انګورو چې شته تاسې ته په دې (باغونو) کې مېوې ډېرې، او له دغو (باغونو) څخه خورئ تاسې (مېوې).

تفسير: يعني په هغو د پسرلي او بهار د ليدلو څخه خوشالږئ، او د هغو د حاصلاتو څخه ځينو د تفکّه په ډول او ځينې د غـذاء په صورت استعمالوئ.

وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِنْ طُورِ سَيْنَاءَ تَنْبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِلْآكِلِينَ ﴿۲۰﴾

او (بل پيدا مو کړه هغه) ونه چې وځي له (غره د) طور سينا څخه چې زرغونيږي له غورپو سره او له انګولي (کتغ) سره لپاره د خوړونکيو.

تفسير: يعني د خونې (زيتونې) ونه چې ترې تېل ووځي، چې د مښلو او نورو په مصرف رسيږي، او ډېر زيات خلق يې د کتغ (انګولي) په شان استعمالوي، د ښونې ذکر يې په خصوصيت سره وفرمايه، ځکه چې د هغه فوائد زيات دي، او د يوه مخصوص فضل او شرف حيثيت لري، ځکه د «التين» په سورت کې پرې قسم هم ياد شوی دی، د طور غره په لوري نسبت کول هم د همدغې (خونې) زيتون د فضيلت او برکت ښکارولو لپاره دی، ځکه چې په هغه وخت کې به هلته د دغې خونې ونې ډېرې زياتې وې.

وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهَا وَلَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٢١﴾

او بېشکه چې تاسې ته په څارويو کې خامخا عبرت دی، چې څښوو مونږ تاسې ته له هغو پيو نه چې په ګېډو د دوی کې دي، او شته تاسې ته په دغو (څاروو کې) منافع (ګټې فائدې) ډېرې، او له دوی (د ځينو اجزاوو) څخه خورئ تاسې (شودې غوښې اونور).

تفسير: يعنې د حيواناتو شودې مونږ په خپل قدرت سره پر تاسې څښوو، او ډېرې زياتې فائدې مو د تاسې لپاره د دغو حيواناتو په وجود کې ايښې دي، تر دې چې د ځينو حيواناتو د غوښو خوراک مو هم پر تاسې حلال کړی دی.

وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٢٢﴾

او پر دغو (څاروو) او پر بېړيو باندې بارولی شئ تاسې (په بر او بحر کې).

تفسير: يعنې په وچه کې د حيواناتو (او نورو نقليه وو وسائلو) په وسيله او په اوبو کې د بېړيو کښتيو (او جهازونو او نورو نقليه وو وسائطو) په واسطه (او همداسې په هوا او نورو کې) نقل او حرکت کوئ، او له يوه ځايه بل لرې ځای ته درومئ ! او ډېر درانه درانه شيان او سامان مو پرې باوروئ.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ مَا هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَأَنزَلَ مَلَائِكَةً مَّا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي آبَائِنَا الْأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾

او خامخا په تحقيق لېږلی وو مونږ نوح خپل قوم ته، نو وويل (نوح): ای قومه ځما ! عبادت کوئ تاسې (يواځې) د الله، نشته تاسې ته بل هيڅ معبود برحق غير له دغه (الله)، آيا پس نه ويرېږئ تاسې (له عذابه د الله)؟ پس وويل هغو مشرانو چې کافران شوي وو له قومه د دغه (نوح خپلو اتباعو ته) چې: نه دی دا نوح مګر يو انسان دی په شان ستاسې، اراده لري د دې خبرې چې مشر شي پر تاسې باندې، او که اراده فرمايلي وی الله (د لېږلو د رسول انسانانو ته نو) خامخا لېږلې به يې وې پرښتې (نه انسانان)، نه دی اورېدلی مونږ دا (چې رسول بنې آدم وي، يا توحيد) په هغو پلرونو ځمونږ کې چې پخوا وو.

تفسير: يعنې په ده کې څه فرق شته، چې دی رسول شي او تاسې نه شئ؟، دی غواړي چې مشرتوب ځان ته حاصل کړي، نو ځکه دغه پلمه (تدبير) او چل يې جوړ کړی دی، که نه که الله تعالی رسول لېږه؛ نو بل سړی پرې درېدلی وو چې همدا يې رالېږلی دی، او پرښته به يې نه وی رالېږلې، مونږ داسې عجيبه خبره له سره نه ده اورېدلې، چې يو ځمونږ په شان سړی او معمولي انسان د الله تعالی رسول شي، او نورو ټولو معبودانو ته بد ووايي، او له منځه يې ورک کړي، او داسې دعوت او بلنه وکړي چې تاسې يواځې د احد او واحد الله تعالی عبادت وکړئ ! او بل هيڅوک مه منئ !.

إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ بِهِ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوا بِهِ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٢٥﴾

نه دی (دا نوح) مګر يو داسې سړی دی چې په ده پورې نښتی دی لېونتوب سودا، پس انتظار کوئ تاسې ده ته تر يوه وخته پورې (چې جوړ شي يا مړ شي).

تفسير: دغه د نوح عليه السلام د زمانې د کفّارو وينا ده: معلوميږي چې د دې غريب دماغ خراب او فکر يې له کاره وتلی دی، که نه د ټول قوم په خلاف او خپلو پلرونو او نيکونو له اصوله مخالف داسې خبرې به يې ولې له خولې ايستلې؟

چې هيڅوک پرې يقين او باور نشي کولی، آيا که دا کار ښکاره لېونتوب نه دی نو څه دی؟ ښه خو دا ده چې تاسې څو ورځې صبر وکړئ ! او انتظار وکړئ ! ځکه چې څه مدّت وروسته دی په سد او په هوش راشي، او د جنون او د سودا د دغې دورې څخه افاقه وموميِ او جوړ شي، يا دی پخپلو همدغو ويلو ويلو کې مړ شي، او سا يې وخيژي، او دغه قصه پای ته ورسيږي (العياذ بالله).

قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٢٦﴾

وويل (نوح) ای رب ځما ! مدد وکړه له ما سره په سبب د دې چې تکذيب يې وکړ ځما.

تفسير: يعنې کله چې د نوح عليه السلام ټول زيار (محنت) او کوښښ بېکاره ثابت شو، او د نهه نيمو سوو کلونو ټول زيار او زحمت يې ورته بې ثمره او بې نتيجې څرګند شو، او موفّق نه شو چې دغه کفّار د ضلالت له لارې څخه چپ او د هدايت پر سمه لاره يې ور روان کړي؛ نو د الله تعالی په دربار کې يې عرض او فرياد وکړ چې: يا الله ! اوس د دغو اشقياوو په مقابل کې ځما امداد وفرمايه، ځکه چې ظاهراً دغه خلق ځما د تکذيب څخه مخ نه ګرځوونکي نه دي، او د نورو خپلو راتلونکو نسلونو او اولادونو افکار او عقائد هم خرابوونکي دي.

فَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ أَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَإِذَا جَاءَ أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ فَاسْلُكْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ ۖ وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا ۖ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٢٧﴾

پس وحي وکړه مونږ دغه (نوح) ته؛ داسې چې اوس جوړه کړه يوه ببړۍ په ليدلو (د سترګو او نظر لاندې) ځمونږ، او په وحي (امر او ښودنې) ځمونږ، پس کله چې راغی امر (حکم) ځمونږ (پر نزول د عذاب سره)، او راوختېده (په اوبو) تنّور؛ پس ورننباسه (سواره کړه) په دې ببړۍ کې له هره قسمه جوړه جوړه، دوه دوه (نر او ښځه)، او اهل (بيت) خپل (يا مؤمنان)، مګر مه ننه باسه هغه څوک چې ړومبی شوې ده په ده خبره (د عذاب) له دوی نه، او مه کوه خبرې له ما سره په باب د هغو کسانو چې ظلم يې کړی دی (په نفسونو خپلو باندې) ببشکه په دوی باندې حکم کړی شوی د غرقېدلو.

تفسير: يعنې کفّار اګر که ستا له کورنۍ څخه هم وي؛ له خپله ځانه سره يې مه سوروه ! ځکه چې د الله تعالی له درباره د عذاب قطعي حکم صادر شوی دی، او د دغې فيصلې اجراء او انفاذ يو حتمي او ضروري کار دی، اوس له ظالمانو څخه د هيڅ يوه د نجات او خلاصي لپاره هيڅ يوه سعي او کوښښ مه کوه !.

فَإِذَا اسْتَوَيْتَ أَنتَ وَمَن مَّعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي نَجَّانَا مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٢٨﴾

نو کله چې برابر شوې وختلې (ای نوحه) ته او هغه (مؤمنان) چې له تا سره دي پر ببړۍ باندې؛ نو ووايه چې: ټول حمد ثناء ده خاص هغه الله ته چې خلاص يې کړو مونږ له ظالم قومه (مشرکانو) څخه.

تفسير: يعنې الله تعالی مونږ له دوی ځنې ببل کړو، او له عذاب څخه يې مأمون او مصئون وساتلو.

وَقُل رَّبِّ أَنزِلْنِي مُنزَلًا مُّبَارَكًا وَأَنتَ خَيْرُ الْمُنزِلِينَ ﴿٢٩﴾

ووايه (ای نوحه په وخت د کوزېدو د تا له ببړۍ نه): ای ربه ځما ! کوز کړه ما په يو داسې ځای کې چې مبارک برکتناک وي حال دا چې ته خير (ډېر غوره) له ټولو کوزونکيو څخه يې.

تفسير: يعني په بېړۍ کې ښه د هوسايۍ (آسانۍ) او آرام ځای راکړه ! او په کوم ځای کې چې مو له بېړۍ څخه ښکته کوې؛ هلته هم څه ربړ او تکليف راپېښ نشي !، او په هر ډول او په هر ځای کې دې ستا برکت او رحمت ځما له حاله سره مل وي !.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ وَإِن كُنَّا لَمُبْتَلِينَ ﴿٣٠﴾

بېشکه دغه (قصه د نوح) کې خامخا دلائل (د عبرت او قدرت ځمونږ) دي، او بېشکه يو مونږ خامخا ازمويښت کوونکي (د بندګانو).

تفسير: چې کوم يو د دغو د اور بدلو څخه عبرت او نصيحت حاصلوي؟ او کوم يو يې نه حاصلوي: ﴿وَلَقَد تَّرَكْنَاهَا آيَةً فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ﴾ (د القمر سورت (١) رکوع، (١٥) آيت، (٢٧) جزء).

ثُمَّ أَنشَأْنَا مِن بَعْدِهِمْ قَرْنًا آخَرِينَ ﴿٣١﴾ فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣٢﴾ وَقَالَ الْمَلَأُ مِن قَوْمِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِلِقَاءِ الْآخِرَةِ وَأَتْرَفْنَاهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا مَا هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ ﴿٣٣﴾

بيا پيدا کړ مونږ پس له (هلاکه د) قومه (د نوح) يو اهل د زمانې نور (عاديان يا ثموديان)، پس ولېږه مونږ په هغو کې يو رسول (هود يا صالح) له دوی څخه، (وويل مونږ په ژبه د هغه رسول دوی ته داسې) چې عبادت کوئ تاسې (يواځې) د الله، نشته تاسې ته بل هيڅ بر حق معبود بې له الله، آيا پس نه ويرېږئ تاسې (له عذابه د الله). او وويل مشرانو له قومه د دغه (نبي) څخه هغه کسان چې کافران شوي وو، او نسبت د دروغو يې کړی وو ملاقات د آخرت ته، او نعمتونه ورکړي وو مونږ دوی ته په دغه ژوندون لږ خسيس کې: نه دی دا (نبي) مګر يو بشر سړی دی په مثل د تاسې چې خوري له هغه (څيزه) چې خورئ يې تاسې له هغه نه، او څښي له هغه څيز چې څښئ يې تاسې له هغه نه.

تفسير: يعني عاديان يا ثموديان پر دې خبرې باندې نه وو معتقد چې وروسته له مرګه به يوه ورځ د پاک الله سره مخامخ کېدونکي يو، او داسې به يې ګڼل چې فقط همدغه د دنيا ژوندون او د هغې عيش او آرام ځمونږ په برخه کې دی، او پرته د معاش د معاد هيڅ فکر به له هغوی سره نه وو، نو ځکه د خپلو رسولانو د ارشاد په مقابل کې به يې داسې چتې خبرې کوې چې دا رسول هم ځمونږ په شان سړی دی هغه څه خوري چې مونږ يې خورو او هغه څه څکي چې مونږ يې څکو ظاهر کې په ده کې هيڅ يو داسې امتياز او خبره نشته چې تاسو يې نه لرئ.

وَلَئِنْ أَطَعْتُم بَشَرًا مِّثْلَكُمْ إِنَّكُمْ إِذًا لَّخَاسِرُونَ ﴿٣٤﴾

او (قسم دی) خامخا که اطاعت وکړ تاسې د يوه انسان په شان خپل؛ بېشکه چې تاسې په هغه وخت کې خامخا له زيانکارانو څخه يئ.

تفسير: يعني له دې نه به لويه خرابي او ذلت څه وي چې د خپل ځان په شان د يوه بل معمولي انسان سړي تابع، خادم او مطيع شئ، او خامخا هغه خپل متبوع، مخدوم، او مطاع وګرځوئ؟.

أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ إِذَا مِتُّمْ وَكُنتُمْ تُرَابًا وَعِظَامًا أَنَّكُم مُّخْرَجُونَ ﴿٣٥﴾ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ ﴿٣٦﴾

آيا وعده کوي له تاسې سره (او ويروي مو دغه هود يا صالح په دې) چې بېشکه تاسې کله چې مړه شئ او شئ خاورې او هډوکي؛ نو بېشکه چې تاسې به را ايستل کېږئ (له ځمکې په بعث سره). ډېر لرې دی ډېر لرې دی (چېرې کېدی شي) هغه څيز چې تاسې سره يې وعده کولی شي.

تفسير: دغه هم د کفّارو وينا ده، يعنې څومره له عقل څخه بعيده خبره وايي، چې د وراسته هډوکي هغه بڅرکي چې له خاورو سره بيخي ګډوډ شوي دي؛ بيا له قبرونو څخه د انسانانو په شکل ژوندي راپاڅولی کيږي، نو ښه تاسې (ای کفارو !) خپله فکر وکړئ چې په داسې چټي (بېکاره) او مهملو خبرو باندې څوک باور کولی شي؟ چې له عقله او صحّت څخه لرې وي؟.

إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿٣٧﴾

نه دی دا ژوندون مګر همدا ژوندون ځمونږ د دنيا، چې مرو او ژوندي کېږو، او نه يو مونږ بيا راپاڅولي شوي وروسته له مرګه (له قبرونو څخه حساب او کتاب ته).

تفسير: يعنې (دغه کفّار وايي) چېرې دی آخرت او چېرې دی حساب او کتاب؟ په څه چې مونږ پوهيږو خو هغه هم دغه د دنيا موجوده سلسله ده، چې مونږ يې ګورو، او هغه همدا يو ژوندي کېدل او يو مړه کېدل دي چې د ګردو تر سترګو لاندې جريان لري، يو ځيرېږی (پيدا کيږي) او بل مري، او زيات له دې نه بل هيڅ شی نشته.

إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا وَمَا نَحْنُ لَهُ بِمُؤْمِنِينَ ﴿٣٨﴾

نه دی دغه (هود يا صالح) مګر يو سړی چې ترلي يې دي پر الله دروغ، او نه يو مونږ ده ته ايمان راوړونکي.

تفسير: يعنې کفّار وايي: د دغه سړي دغه وينا چې زه د الله نبي يم، او الله تعالی مړي بيا له سره ژوندي کوي، ثواب او عقاب، جزاء او سزا ورکوي؛ دغه دواړه دعاوی داسې دي چې هغه مونږ له سره نه شو منلی، نو خامخا داسې جګړې نښلولو او د سر درد پيدا کولو ته څه حاجت پاتې دی؟ او له هغه څخه څه فائده عائده کيږي؟ نو بالآخر پېغمبر د کفّارو د داسې خبرو اترو څخه سخت متأثر شو، او له هغه منکرانو څخه بې هيلې او نااميده شو، او داسې دعا يې وکړه:

قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٣٩﴾ قَالَ عَمَّا قَلِيلٍ لَيُصْبِحُنَّ نَادِمِينَ ﴿٤٠﴾

وويل (هود يا صالح): ای ربه ځما ! مدد وکړه له ما سره په سبب د دې چې دروغجن يې وبللم زه (او ځما رسالت يې ونه مانه). نو وفرمايل (الله هود يا صالح ته چې) پس له لږ مدّت خامخا وبه ګرځي (دغه عاديان يـا ثموديان) پښېمانه (په دغـه کُفر او تکذيب خپل).

تفسير: يعنې د الله تعالی عذاب ورتلونکی دی، چې وروسته له هغه به افسوس او ارمان کول هيڅ د دوی په درد نه خوري، او نه به څه نفع وررسوي.

فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ

پس ونيول دوی چغې د هلاکت په حق (او عدل) سره.

تفسير: له دې په ښکاره ډول دغه مترشح کيږي چې دغه قصه د «ثمود» وه چې د هغه امّت په سخت غږ سره مړ شوی دی، او پر «عاد» سخت باد الوتی وو، او چا ويلي دي چې: دغه قصه د عاديانو ده، چې د «الأعراف» په سورت او په هود

او په شعراء کې په قصې د نوح پسې همدغه ذکر دی، نو بناء پر دغه هر بېخ کن عذاب ته «صيحة» وايه شي، نو ځکه دلته هم «صيحة» ذکر شوه.

فَجَعَلْنٰهُمْ غُثَآءً ۚ فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤١﴾

پس (هلاک شول نو) وګرځول مونږ دوی شاوړي (خس خاشاک د سيلاب)، پس لرې والی دی قوم ظالمانو ته (له رحمته د الله).

تفسير: يعنې لکه چې سيلاب (څپان) خس او خاشاک له خپله ځانه سره وړي؛ همداسې د الله تعالی د عذاب په سيلاب کې دوی هم وبهېدل او لاهو شول.

ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قُرُوْنًا اٰخَرِيْنَ ﴿٤٢﴾ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ﴿٤٣﴾

بيا پيدا کړ مونږ وروسته له هغو (ثموديانو يا عاديانو) اهل د زمانو نور (لکه قوم د لوط او شعيب). نشي ړومبی کېدی هيڅ قوم له وعدې مقررې خپلې، او نه وروستی کېدی شي ترې.

تفسير: يعنې هر قوم چې د خپلو انبياوو تکذيب وکړي؛ ګرد په همغو خپلو مقرره وو وعدو سره هلاک کيږي، هر ميعاد او هره نېټه چې د هر قوم لپاره مقرره شوې ده؛ هغه د يوې شېبې له مخې هم نه وړاندې او نه وروسته کيږي.

ثُمَّ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا ۭ كُلَّمَا جَآءَ اُمَّةً رَّسُوْلُهَا كَذَّبُوْهُ فَاَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ بَعْضًا وَّجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ ۚ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٤٤﴾

بيا ولېږل مونږ رسولان خپل حال دا چې يو په بل پسې پيوست وو، هر کله چې رابه غې کوم امّت ته رسول د دوی؛ نو دروغجن به يې باله دی، پس پرله پسې به کړل مونږ ځينې د دوی په ځينو نورو (په هلاکولو کې)، او وګرځول مونږ دوی تشې قصې (د تعجّب په عالم کې)، پس لرې والی دی (د الله له رحمته) هغه قوم ته چې نه راوړي ايمان (په مؤمن به شيانو باندې).

تفسير: يعنې الله تعالی د رسولانو سلسله روانه کړه، او يو په بل پسې يې نبي ورلېږه، او د مکذبينو هم د يوه پسې د بل تباه، فناء او بربادېدل جاري وو، له يوه جانبه د انبياوو بعثت او له بل جانب د منکرينو د اهلاک لمبرونه به سره لګېدل، لکه چې په همدغه سلسله کې ډېر اقوام سره تباه شول، چې له هغوی څخه د حيرت او عبرت نه د ډکو قصو او افسانو ماسوا بل هيڅ شی نه دی پاتې، او نن د هغوی داستانونه يواځې د پند، نصيحت، او عبرت لپاره ويلی او اورولی کيږي.

ثُمَّ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى وَاَخَاهُ هٰرُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿٤٥﴾ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا عَالِيْنَ ﴿٤٦﴾

بيا ولېږه مونږ موسی او ورور د ده هارون په دلائلو (د قدرت او هغو معجزو) خپلو سره، او په برهان دليل سند ښکاره. طرف د فرعون او قوم د ده (فرعونيانو) ته، پس کبر سرکشي يې وکړه (له ايمانه) حال دا چې وو دوی قوم متکبّر (سرکش پر خلاف د موسی).

تفسير: نو ځکه د الله تعالی پيغام يې په خاطر کې رانه ووړ، چې د کبر او غرور نشې د دوی دماغونه بيخي خراب او مختل کړي وو.

فَقَالُوٓا۟ أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَٰبِدُونَ ﴿٤٧﴾

پس وويل (قبطيانو): آيا پس ايمان راوړو مونږ پر دوو سړيو په مثل شان ځمونږ حال دا چې قوم د دوی (سبطيان) مونږ ته خادمان (مريان) دي.

تفسير: يعنې د موسى عليه السلام او هارون عليه السلام قوم بني اسرائيلو خو ځمونږ مرييتوب او مزدوري کوي، نو د دوی له منځه مونږ د دغو دوو سړيو سيادت او مشرتوب څرنګه منلی شو؟.

فَكَذَّبُوهُمَا فَكَانُوا۟ مِنَ ٱلْمُهْلَكِينَ ﴿٤٨﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾

پس دروغجن وبلل دغو (موسى او هارون لره قبطيانو) پس شول (قبطيان) له هلاک کړيو شويو (په غرق سره). او خامخا په تحقيق ورکړی وو مونږ موسى ته کتاب (تورات) ښايي چې دغه (بني اسرائيل) سمه صافه لاره ومومي (په دې تورات سره).

تفسير: يعنې د فرعون له اهلاک ځخه وروسته مونږ بني اسرائيلو ته «تورات شريف» ورکړ، څو خلق پر هغه تګ او عمل وکړي، او تر جنّت او د الله د رضاء تر منزل پورې ورسېدی شي.

وَجَعَلْنَا ٱبْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُۥٓ ءَايَةً وَءَاوَيْنَٰهُمَآ إِلَىٰ رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ﴿٥٠﴾

او ګرځولې وه مونږ (قصه د) ځوی د مريمې او د مور د ده (يو لوی) دليل (د قدرت)، او مونږ ځای ورکړی ـ راوستي وو دوی هسکې (اوچتې) ځمکې ته چې خاونده د قرار ده (چې اوسېدونکي يې په ارام دي)، او خاونده د اوبو پاکو صافو بهېدونکو ده.

تفسير: يعنې دغه د الهيه وو قدرتونو له دلائلو او نښو ځخه دی، چې يواځې د مور له ګېډې يې بې له پلاره عيسى المسيح عليه السلام پيدا کړی دی، لکه چې په «آل عمران» او د «مريم» په سورتونو کې د دې تقرير ليکلی شوی دی.

«ربوة» هسکې (اوچتې) ځمکې ته ويلی شي، چې بيت المقدس يا دمشق يا مصر وو، او پخپلو نورو شاوخوا ځمکو باندې لوړه ده، ښايي دا هم هغه هسکه (اوچته) ځمکه يا غونډۍ وي چې د لنګون په وخت کې هلته بي بي مريمې تشريف درلود (لرلو)، لکه چې د «مريم» د سورت دغه آيات پرې دلالت کوي:

﴿ فَنَادَىٰهَا مِن تَحْتِهَآ أَلَّا تَحْزَنِى قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا * وَهُزِّىٓ إِلَيْكِ بِجِذْعِ ٱلنَّخْلَةِ تُسَٰقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴾ چې دغه ځای هسک وو، او تري لاندې چينه يا وياله بهېده، او د خُرما ونه هغه ته نژدې وه (كذا فسّره ابن كثير رحمه الله).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُوا۟ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعْمَلُوا۟ صَٰلِحًا

ای رسولانو ! خورئ تاسې له طيّباتو (پاکيزه وو طعامو) ځخه او وکړئ تاسې ښه (عملونه).

تفسير: يعنې د ګردو انبياوو په دين کې همدغه يو حکم شته چې حلال خوراک له حلالې لارې ځخه ګټئ او نېک کارونه کوئ !، او ښايي چې په نېکو کارونو ګرد خلق سره مشغول او مصروف اوسي، لکه چې ټولو انبياوو عليهم السلام په نهايت مضبوطي او استقامت سره د حلال اکل، د مقال صدق، او د نېکو اعمالو په مواظبت توصيه او خپل امت ته تأکيدات کول.

د عظيم الشأن قرآن په بل ځای کې دغسې حکم چې دلته رسولانو ته ورکړی شوی دی؛ «عامة المؤمنين» ته ورکړی شوی دی، په دغه کې د نصرانيانو د رهبانيت تردید هم شوی دی، چې د عيسى عليه السلام له ذکره سره

خاص مناسبت لري، له احاديثو څخه معلوميږي چې د «هر چا خوړل، څښل، آغوستل چې له حرامو څخه وي؛ د هغه د دعاء د قبول توقع نه ښايي چې وکړه شي»، په ځينو احاديثو کې دي: «هغه غوښه چې د حرامو څخه زرغونه شوي وي؛ د دوزخ اور د هغه زيات حقدار دی»، (العياذ بالله).

إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٥١﴾

بېشکه زه پر هغو کارونو چې کوئ يې تاسې ښه عالم خبردار يم.

تفسير: يعنې حلال خوړونکيو او نېکوکارو ته ښايي چې داسې عقيده ولري چې الله تعالى د ده له ټولو پټو او ښکاره وو احوالو او افعالو څخه ښه عالم دی، او له هغه سره موافق به له هر چا سره معامله کوي، دغه اګر که له رسولانو سره پخپلو زمانو کې خطاب دی، مګر په واقع کې د دوی امّت ته د دغه مطلب اورول مقصود دي.

وَإِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ ﴿٥٢﴾ فَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ زُبُرًا ۖ

او بېشکه دا (سماوي دين چې توحيد او نور مؤمن به شيان دي، ای رسولانو !) ستاسو دين (او د ستاسو د ټولو امتيانو دين) دی په دې حال کې چې دين يو دی، او زه ستاسو رب يم، نو وويرېږئ له ما. پس پرې کړ (امّتيانو د دوی) دين خپل په منځ خپل کې ټوټې ټوټې.

تفسير: يعنې د اصولو په اعتبار د ګردو انبياوو دين او ملّت يو او د ګردو الله هم يو دی، چې د هغه د عصيان څخه تل وېره په کار ده، ليکن خلقو په دغه واحد اصل کې اختلاف وغورځاوه، او د دين اصل يې سره ټوټې ټوټې کړ، او بېلې بېلې لارې يې په کې جوړې کړې، پخپل سر د آراوو او اهواوو په متابعت په سلهاوو فرقې او مذاهب جوړ شول، انبياء دغه تفريق خلقو ته نه دی ښوولی، د دوی په نزد د ازمنه وو او امکنه وو او نور اختلاف صرف فروعي اختلاف وو، او په اصول الدين کې ګرد سره بالکليه متفق وو.

كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٥٣﴾

چې هر يو حزب ګوند (له دوی نه) په هغه (باطل دين) چې له دوی سره دی، خوشال دی.

تفسير: يعنې داسې به يې ګڼل چې يواځې همدغه مونږ پر حق دين يو، او ځمونږ همدغه لاره سمه او صافه لاره ده.

فَذَرْهُمْ فِي غَمْرَتِهِمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٥٤﴾

پس پرېږده (ای محمده !) دوی په ګمراهۍ خپلې کې تر يوه وخته (د مرګه) پورې.

تفسير: يعنې هغو کسانو چې د انبياوو په متفقه وو هدايا تو کې ګوندونه (ډلې) جوړ کړل، او سره بېلې بېلې فرقې او ملّتونه يې قائم کړل، او هره فرقه يواځې پر هم هغو خپلو عقائدو او خيالاتو د زړه له کومې ټينګه ولاړه ده، او په هيڅ ډول له هغه څخه مخ نه اړوي، اګر که ته ډېر پند او نصيحت هم وفرمايي، نو تاسې په دغه غم کې خپل ځان زيات مه کړوئ !، بلکه دوی ته لږ مهلت ورکړئ !، چې دوی د غفلت او جهالت په نشو کې ډوب او نشه پراته وي، څو هغه موعوده ساعت ورسيږي، او د دوی ستر ګې تېغې تېغې پاتې شي، يعنې موت يا د الله تعالى عذاب د دوی پر سرونو او شاوخوا وګرځي.

أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم بِهِ مِن مَّالٍ وَبَنِينَ ﴿٥٥﴾ نُسَارِعُ لَهُمْ فِي الْخَيْرَاتِ ۚ بَل لَّا يَشْعُرُونَ ﴿٥٦﴾

آيا ګمان کوي دوی د دې چې بېشکه هر هغه څيز چې ورکوو يې مونږ دوی ته (په دنيا کې

مدد ورسره کوو) په هغه څیز له ماله او (له) ځامنو. چې تلوار کوو مونږ دوی ته په خیراتونو (او اکرامونو؟ نه ده داسې) بلکه نه پوهیږي دوی (چې دا استدراج او امهال دی).

تفسیر: همدغه د دوی خیال وو، لکه چې ویل به یې: ﴿وَقَالُوا نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ﴾ (د السبأ سورت (۴) رکوع (۳۵) آیت (۲۲) جزء)، یعنې که مونږ د الله تعالی په نزد مردود او مبغوض وی؛ نو دغه مال او دولت او اولاد او نور یې ولې مونږ ته په دغه کثرت سره راکړي دي؟ یعنې په دې نه پوهیږي چې د مال او اولاد دغه افراط د دوی د فضیلت او کرامت له سببه نه دی، بلکه د امهال او استدراج په بناء دی، هغومره مهلت او ډیل چې دوی ته ورکاوه کیږي؛ په همدغه اندازه د دوی د شقاوت جام تر څنډو (غاړو) پورې ډکیږي: ﴿وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ﴾ (۹ جزء د الأعراف سورت (۱۸۲ - ۱۸۳) آیتونه (۲۳) رکوع).

إِنَّ الَّذِينَ هُمْ مِنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ مُشْفِقُونَ ﴿۵۷﴾

بېشکه هغه کسان چې دوی له (خوفه د) عذاب د رب خپل ویریدونکي دي تل.

تفسیر: یعنې صادق او خالص مؤمنان سره له ایمانه او احسانه د کفّارو او مغرورینو پشان له «مکر الله» څخه مأمون نه دي، بلکه تل تر تله د الله تعالی له وېرې څخه لړزیږي او ویریږي چې الله تعالی دې نه کړي چې دغه انعامات او احسانات چې پر مونږ په دغه دنیا کې شوي دي؛ امهال او استدراج وي، د حسن بصري رحمه الله مقوله ده: «مؤمن نېکۍ کوي او ویریږي، او منافق بدۍ کوي او له سره یې فکر خراب نه وي».

وَالَّذِينَ هُمْ بِآيَاتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴿۵۸﴾

او هغه کسان چې دوی په آیتونو د رب خپل ایمان راوړي.

تفسیر: یعنې پر کونیه وو او شرعیه وو آیتونو دواړو باندې یقین او داسې عقیده لري، چې هر شی دلته راد مخه کیږي؛ هغه عین الحکمت او صواب دی، او هر هغه شی چې هلته رادمخه کیږي؛ هغه هم بالکل حق او هر هغه حکم چې راکاوه کیږي؛ هغه من کل الوجوه صواب او معقول دی.

وَالَّذِينَ هُمْ بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُونَ ﴿۵۹﴾

او هغه کسان چې دوی په رب خپل پورې نه شریکوي (بل هیڅ شی).

تفسیر: یعنې پر خالص ایمان او توحید په طریقه د اخلاص سره قائم دي، او هر یو عمل په صدق او اخلاص سره اداء کوي، د خفي یا جلي شرک یوې شائبې ته د راتللو موقع نه ورکوي.

وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوْا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ ﴿۶۰﴾

او هغه کسان چې ورکوي هر هغه چې ورکوي یې دوی (له زکاتونو او خیراتونو) حال دا چې زړونه د دوی ویریدونکي دي (له نه قبلېدو نه، ځکه چې) بېشکه دوی رب خپل ته ورتلونکي دي.

تفسیر: یعنې څه پوهیږو چې هغه هلته مقبول شو که نه؟ وروسته مو په کار راځي که نه؟ د الله تعالی په لاره کې د صرفولو څخه تل د دوی په زړونو کې دغه وېره او اندېښنه وي او پر خپل عمل باندې نه مغروریږي، او سره له نېکۍ کولو هم ویریږي.

أُولَٰئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ ﴿٦١﴾

دغه کسان ډېر تلوار (او رغبت) کوي په نېکيو (طاعاتو) کې، او دوی هغو (نېکيو) ته ډومبی کېدونکي دي (له نورو خلقو نه).

تفسير: هـم په دنيا کـې او هم په آخرت کې، لکه څنګه چې الله جل جلاله فرمايلي دي: ﴿فَآتَاهُمُ اللَّهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْآخِرَةِ﴾ (۴ جزء، د آل عمران سورت (۱۴۸) آيت، (۱۵) رکوع)، نو په حقيقت کې اصلي نيکي په صالحه وو اعمالو، حميده وو أخلاقو او فاضله وو ملکاتو کې وشوه، نه په اموالو او اولادو کې لکه چې د کفّارو ګمان وو.

وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا وَلَدَيْنَا كِتَابٌ يَنْطِقُ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٦٢﴾

او نه تکليفوو (نه مکلّفوو) هيڅ نفس مګر په قدر د طاقت د ده، او ځمونږ سره يو کتاب (لوح محفوظ يا عملنامې) دی، چې بيانوي حق رښتيا، او پر دوی به هيڅ قسم ظلم ونه کړ شي (په تزييد د عقاب، يا تنقيص د ثواب سره).

تفسير: يعنې هغه اعمال او خصال چې پاس بيان شول، کوم داسې مشکل کار نه دی، چې د هغه تحمّل د انسان له طاقته خارج وي، ځمونږ عادت داسې نه دی چې خلق په مالا يطاق شيانو مکلّف کړو، دغه ګردې خبرې داسې دي چې که تاسې توجه وکړئ؛ نو پخپله يې حاصلولی شئ، هغه کسان چې د کاملينو سابقينو درجې ته نشي رسېدلی، دوی دې هم خپل وسعت او همّت سره موافق پوره هم هغسې سعي او کوښښ وکړي چې پرې مکلّف دي، د هر يوه اعمال ځمونږ په نزد د اعمالو په صحائفو کې درجه په درجه ليکلي موجود دي، چې د قيامت په ورځ د ګردو په مخ کې پرانستلی او کېښودلی کيږي، او د هغه سره موافق به دوی ته جزاء ورکوله کيږي، چې په هغه کې د يوې ذرې په اندازه هم ظلم او تېری نه کيږي، او نه د چا کومه نيکي ضايع کيږي، او نه يې اجر کم ورکاوه کيږي، نه بې وجه او بې قصوره د بل چا بار پرې اچولی کيږي.

بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ مِنْ هَٰذَا وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِنْ دُونِ ذَٰلِكَ هُمْ لَهَا عَامِلُونَ ﴿٦٣﴾

بلکه زړونه د دغو (کفّارو) په غفلت کې دي له دغه (قرآنه)، او شته دوی ته عملونه (ناپاکه او کارونه بېپاکه) غير له دې (شرکه د دوی) چې دوی د هغو عملونو کوونکي دي (نو به پرې بيا مومي جزاء او هم دوی به داسې په غفلت او معصيت کې مشغول اوسيږي).

تفسير: د آخرت له حسابه او کتابه دغه خلق غافل او بې پروا، او په دنيوي چارو کې مشغول او لګيا دي، او له سره له هغو څخه نه وزګاريږي، چې د آخرت په طرف توجّه وکړي، يا يې دا مطلب چې د دوی په زړونو کې کفر او نفاق ځای نيولی دی، او دوی د شک، تردد، غفلت او د جهالت په تورو تيارو موجونو او چپو کې ډوب شوي دي، لويه ګناه خو دغه شوه، باقي له دې نه ماسوا نور ډېر ګناهونه شته چې دوی يې سره ټولوي، او د يوې شېبې له مخې هم له هغه څخه نه دي جدا، او نه ښايي هم تري جدا شي، ځکه هغه بد أعمال چې د دوی په حق کې د دوی د بد استعداد لامله (له وجې) مقدّر شوی دی، هغه به خامخا دوی کوي، او خامخا د هغه جزاء به مومي.

حَتَّىٰ إِذَا أَخَذْنَا مُتْرَفِيهِمْ بِالْعَذَابِ إِذَا هُمْ يَجْأَرُونَ ﴿٦٤﴾ لَا تَجْأَرُوا الْيَوْمَ إِنَّكُمْ مِنَّا لَا تُنْصَرُونَ ﴿٦٥﴾

تر هغه پورې کله چې ونيسو مونږ (هم هغه) غنيان (غټان منعمان) د دوی په (دنيوي) عذاب (د قتل يا قحط يا نور، نو) ناڅاپه دوی به فريادونه کوي (تنهارې وهي). مه کوئ فرياد نن ورځ (ځکه چې) بېشکه تاسې سره له مونږ څخه هيڅ مدد به ونه کړی شي (په خلاصولو کې له عذابه).

تفسير: تفسير: يعني څه وخت چې په دنيوي يا اخروي عذاب کې مبتلا شي؛ نو ژاړي او سخت شورماشور اچوي، چې مونږ ته له دغه آفت څخه نجات راکړه ! ښه، په دغه وخت کې به د دوی نجات ورکوونکی څوک وي؟ نو حکم صادريږي چې چپ شئ ! له سره شورماشور مه کوئ ! چې دغه ټولې ژړا او انګولا مو بېکاره ده، نن هيڅوک ستاسې نصرت او مرسته نشي کولی، او نه مو ځمونږ له عذابه خلاصولی شي.

قَدْ كَانَتْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ تَنْكِصُوْنَ ﴿٦٦﴾ مُسْتَكْبِرِيْنَ ۖ بِهٖ سٰمِرًا تَهْجُرُوْنَ ﴿٦٧﴾

په تحقيق وو آيتونه (د قرآن) ځما چې لوستلي به شو پر تاسې (هر وخت) پس وئ به تاسې په پوندو خپلو چې ببرته به ګرځېدئ (او نه به مو مانه کلام ځما). په دې حال چې کبر کوونکي به وئ په دې (قرآن يا محمد يا کعبه) حال دا چې د شپې قصې کوونکي به وئ (په طعن د مقدّساتو کې) مسخرې به مو کولې، پرېښودل به مو (قرآن او نور مطهرات او ترې تښتېدئ به).

تفسير: يعني ولې اوس شورماشور لګوئ او ناري سورې وهئ، هغه وخت مو په ياد راوړئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به تاسې ته د الله تعالى آيتونه اورول او تاسې به په ډېر سرعت سره ترې تښتېدئ، او د هغو آيتونو اورېدلو ته به مو هيڅ فکر او توجّه نه کوله، بلکه ستاسې کبر، غرور او ځانمني (خودنمايي) به له سره تاسې ته اجازه نه درکوله چې هغه ومنئ، يا د انبياء الله عليهم السلام خبرو ته لږ غوږ کېږدئ، يعني کفّار به د رسول الله صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلّم له مجلسه داسې تښتېدل لکه چې دوی (العياذ بالله) د کومې چټې (بېکاره) او فضولې قصې له اورېدلو څخه په تنګ شوي ترې لاړ شوي وي، يا به د ﴿سٰمِرًا تَهْجُرُوْنَ﴾ مطلب دا وي چې د شپې له مخې به دوی په حرم شريف کې کېناستل، او د دې په ځای چې مؤمنان شي، او په حرم محترم کې عبادت وکړي، او ترې چارچاپېر طواف وکړي؛ د رسول الله صلى الله عليه وسلم يا د عظيم الشأن قرآن په نسبت به يې خبرې کولې، او راز راز قصې او افسانې به يې له خپله ځانه جوړولې، چا به ورته کوډګر ساحر ويل، چا به د شاعري نسبت ورته کاوه، چا به کاهن باله، يو به يو شی ويل، بل به بل شی اورول.

اَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ اَمْ جَآءَهُمْ مَّا لَمْ يَاْتِ اٰبَآءَهُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٦٨﴾

آيا پس فکر نه کوي (کُفّار) په دې وينا کې (چې قرآن دی)؟ آيا که راغلي دي دوی ته هغه څه چې (رسول او قرآن دی او) نه وو راغلي پلرونو پخوانيو د دوی ته (نو ځکه انکار کوي)؟.

تفسير: يعني دغه منکرين د قرآن عظيم الشأن په محاسنو کې غور او فکر نه کوي، که نه حقيقت الحال به ورمنکشف کېده، چې بلا شبهه دغه د الله تعالى جل وعلا شأنه کلام دی، چې په هغه کې د ټولو امراضو صحيح علاج ښوولی شوی دی، چې الفاظ يې موجز او معجز او معاني يې واضح او لائح دي، او د نورو د سماوي کتابونو او انبياوو مصدق او مؤيد دی، آيا که راغلي دوی ته هغه څه چې نه وو راغلي پلرونو پخوانيو د دوی ته؟ يعني نصيحت کوونکی به تل وو، يا به انبياء الله عليهم السلام يا به د انبياوو أتباع، او اسماني کتابونه هم پرله پسې نازلېدل، کله يو او کله بل، کله په يو ځای او کله په بل ځای کې، او دغه کومه نوې خبره نه ده، چې د هغې مثال او نمونه په پخوانيو ازمنه وو کې نه ده لېدلې شوې، هو ! دغه ډېر أکمل او خورا أشرف او أقدس کتاب چې اوس نازل شوی دی، په دغه لوی شأن اعلى مرتبې سره پخوا کوم کتاب نه دی راغلی، نو د دې مقتضی داسې وه چې لا زيات ښايي د دغه نعمت قدر مو کړی وی، او په ښه شان سره مو د هغه استقبال کولی، او د هغه د غږ په مقابل کې به مو «لبّيک» ويلی وی، لکه چې أصحابو کرام رضي الله تعالى عنهم ويلی دی.

تنبيه: ښايي دلته له ﴿ءَابَآؤُهُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ﴾ څخه «الآباء الأبعدين» (لرى پلرونه او نيکونه) مراد وي، او هغه چې ﴿يٰسٓ﴾ شريف په سورت کې ﴿لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أُنذِرَ ءَابَآؤُهُمۡ﴾ راغلى دى؛ هلته به د «الآباء الأقربين» نژدى پلرونه او نيکونه اراده کړه شوي وي، والله أعلم.

أَمۡ لَمۡ يَعۡرِفُواْ رَسُولَهُمۡ فَهُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ ٦٩

آيا که نه دى پېژندلى (کفّارو) رسول خپل (په صداقت او امانت سره) پس دوى له ده څخه منکران دي.

تفسير: يعنې آيا ځکه يې پر تکذيب او اعراض لاس پورې کړى دى، چې هغوى د خپل د دغه نبي الله له أحواله باخبره نه دي؟ حال دا چې ګرد عرب پوهيږي چې محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم له هلکتوبه صادق، أمين، عفيف او متّقي وو، خاوند د علم، حلم، کرم، جود، سخا، وفا، احسان، مروت، او کمال د عقل، صحت، حسب، نسب، اخلاق او آداب وو، لکه جعفر رضي الله تعالى عنه د حبشيّ د نجاشي (باچا) په مقابل کې او مغيره بن شعبه د نائب کسرى په مخ کې او ابو سفيان د کفر په حالت کې د روم د قيصر په دربار کې د همدغو اوصافو اظهار کړى وو، نو بيا د داسې صادق متقي بنده په نسبت داسې ګمان کېدى شي چې (العياذ بالله) هغه پر الله تعالى دروغ تړي، يا هغه يو اوپره سړى دى، يا بيخي نااشنا او پردى او بېګانه دى؟.

أَمۡ يَقُولُونَ بِهِۦ جِنَّةُۢۚ بَلۡ جَآءَهُم بِٱلۡحَقِّ وَأَكۡثَرُهُمۡ لِلۡحَقِّ كَٰرِهُونَ ٧٠

آيا وايي دوى چې په ده لېونتوب دى (نه ده داسې لکه چې دوى يې وايي، او ګمانونه کوي) بلکه راغلى دى (دا محمّد) دوى ته په حق (دين) سره، او اکثر د دوى حق لره ناخوښوونکي دي.

تفسير: ځکه چې مخالف دى له هواى نفساني او له مقتضاى شيطاني د دوى، او اکثر يې ځکه وفرمايل؛ چې بعض محض له جهته د شرم او ننګ او ملامتى د قوم ايمان نه راوړي، لکه ابو طالب.

شيخ الهند د دې آيت ترجمه داسې کړې ده: «يا وايي چې هغه سودايي دى، هيڅ نشته، هغه خو دوى ته رښتيا خبره راوړې ده، او پر دغو ډېرو رښتيا خبره بده لګيږي».

وَلَوِ ٱتَّبَعَ ٱلۡحَقُّ أَهۡوَآءَهُمۡ لَفَسَدَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ

او که متابعت کړى وى حق (الله، قرآن) د نفساني غوښتنې د دوى (په وجود د ډېرو معبودانو کې)؛ نو خامخا خراب شوي به وو اسمانونه او ځمکه او هر هغه (مخلوق) چې په دوى کې دى.

تفسير: يعنې که رښتيا خبره پر دوى بده لګيږي؛ ودې لګيږي، صداقت، حقانيت او رښتيا د دوى د خوښې او خواهش نشي تابع کېدى، که د دوى د خوښې او خواهشونو سره موافق احکام صادرولى؛ نو د هغه الوهيت به نه وى پاتې، او په دغه تقدير سره به د اسمان او د ځمکې دغه محکم انتظامات څرنګه قائم پاتې کېدى شوى؟

بَلۡ أَتَيۡنَٰهُم بِذِكۡرِهِمۡ

بلکه راوړى مو دى دوى ته ذکر پند د دوى (چې قرآن مجيد دى).

تفسير: او دوى به تل د هغه ارمان او تمنّا داسې کوله: ﴿لَوۡ أَنَّ عِندَنَا ذِكۡرٗا مِّنَ ٱلۡأَوَّلِينَ ۝ لَكُنَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ﴾ (٢٣ جزء د الصآفات سورت (١٦٨ - ١٦٩) آيت (٥) رکوع).

فَهُمْ عَنْ ذِكْرِهِمْ مُعْرِضُونَ ﴿٧١﴾

پس دوی له ذکر پند خپل مخ ګرځوونکي دي (فکر او غور ورته نه کوي).

تفسير: يعنې څه وخت چې دغه قرآنکريم دوی ته راغی، او داسې راغی چې له هغه څخه د دوی قومي حيثيت ته عظيم الشأن فخر او شرف حاصل شو؛ نو اوس دوی ولې ترې مخ اړوي؟ او داسې اعلی فضل او شرف په ويړيا له خپله لاسه ضايع کوي.

أَمْ تَسْأَلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ۖ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿٧٢﴾

آيا غواړې ته (ای محمده !) له دوی نه څه اجرت (په دغه تبليغ او رسالت خپل، نو ځکه دربانديې تهمت وايي)؟ پس هغه اجرت د رب ستا چې (دنيوي رزق او اخروي ثواب دی) خير ډېر غوره دی (تاته د دوی له اجره)، او هم دغه (الله) ډېر غوره د ټولو رزق روزي ورکوونکيو دی.

تفسير: يعنې تاسې د دعوت او تبليغ او نصيحت او خير غوښتلو په مقابل کې له دوی نه د څه مزدوری او معاوضې او اجرت غوښتونکي هم نه يئ، هغه د دواړو دولت چې پاک الله تاته مرحمت فرمايلی دی؛ هغه د دوی د هغې معاوضې څخه ډېر بهتر دی.

وَإِنَّكَ لَتَدْعُوهُمْ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٧٣﴾ وَإِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنَاكِبُونَ ﴿٧٤﴾

او بېشکه ته خامخا بولې دوی صافې سمې لارې طرف ته (چې دين د اسلام دی). او بېشکه هغه کسان چې نه راوړي ايمان په قيامت له سمې صافې لارې څخه خامخا کږېدونکي دي (لارې د ضلالت ته).

وَلَوْ رَحِمْنَاهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِم مِّن ضُرٍّ لَّلَجُّوا فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿٧٥﴾

او که مهرباني کړي وی مونږ پر دوی، او لرې کړي وی مونږ هغه چې په دوی وو له ضرره (چې قحط دی)؛ نو خامخا به لا ټينګ شوي وو دوی په ګمراهۍ تجاوز سرکښۍ خپله کې حال دا چې حيران او متردّد به وو.

تفسير: يعنې که دغه منکران له تکليف څخه وباسو، او آرامي ور په برخه کړو؛ بيا هم دوی احسان نه مني، او له شرارت او سرکښۍ څخه نه اوړي، د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ښېرا يو ځلې پر مکيّانو قحط (سوکړه) نازل شو، بيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم په دعاء هغه ترې لرې شو، ښايي چې دلته يې همغه فرمايلی وي.

وَلَقَدْ أَخَذْنَاهُم بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوا لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ ﴿٧٦﴾

او خامخا په تحقيق ونيول مونږ دوی په عذاب سره (څو عاجز او نرم شي)؛ پس غاړه يې کښنبوده (او عاجزي يې ونه کړه) رب خپل ته، او نه تضرّع زاري يې وکړه (بلکه لا سرکښ او متکبّر شول).

تفسير: مثلا قحط او نور آفات پرې مسلط شول، خو سره له هغه دوی د عجز له لارې ورورانديې نشول، او د الله تعالى احکامو ته يې غاړه کښنبودله.

حَتَّىٰٓ إِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيدٍ إِذَا هُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴿٧٧﴾

تر هغه پورې کله چې وپرانستله مونږ پر دغو (منکرانو) یو وَر (دروازه) خاوند د عذاب سخت؛ ناڅاپه دوی په دغه (عذاب) کې حیران ناامیده وو له هر خیره.

تفسیر: له دې نه یا د آخرت عذاب مراد دی، یا د جنګونو د هغو دروازو (وَرونو) پرانستل مقصود دي، چې په هغوی کې دوی ګرد سره سترې او ستومان او بېرته کېناستل.

وَهُوَ الَّذِي أَنشَأَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ ۖ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٧٨﴾

او دغه (الله) هغه ذات دی چې پیدا کړي یې دي تاسې ته غوږونه (د سامعې قوه)، او سترګې (د باصرې قوه)، او زړونه (د بصیرت قوه)، ډېر لږ شکر وباسئ تاسې (او حق یې ډېر لږ په ځای کوئ).

تفسیر: په غوږونو سره د هغه تنزیلیه آیات واورئ !، او په سترګو یې تکوینیه آیات وګورئ !، او په زړونو سره د دغو دواړو په پوهېدلو کې کوښښ وکړئ !، د دغو نعمتونو شکریه خو په دې کې وه چې د ده دغه درکړي قوّتونه تاسې د ده د احکامو په تعمیل کې مصروف کړئ !، مګر داسې نه کیږي، او اکثر اوقات اکثر انسانان دغه قوّتونه بې ځایه لګوي.

وَهُوَ الَّذِي ذَرَأَكُمْ فِي الْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٧٩﴾

او دغه (الله) هغه ذات دی چې پیدا کړي (خواره کړي) یې یئ تاسې په ځمکه کې، اوخاص همدغه (الله) ته به ورجمع کړی شئ په قیامت کې).

تفسیر: هلته به د هر یوه د شکر ایستلو او شکر نه ایستلو بدل ورکړي، په هغه وخت کې به هیڅ یو انسان او هیڅ یو عمل نه غیر حاضریږي، هغه ذات چې دغه ګرد شیان یې منتشر (خواره) کړي دي؛ دغه کار هم هیڅ اشکال نه لري چې هغه ټول سره بیا یو ځای مجتمع او راټول کړي.

وَهُوَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ وَلَهُ اخْتِلَافُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٨٠﴾

او دغه (الله) هغه ذات دی چې ژوندي کوي او مړه کوي، او خاص د همده کار دی اختلاف بدلول د شپې او د ورځې، نو آیا پس تاسې عقل نه چلوئ، (او عبرت نه اخلئ؟).

تفسیر: د هغه الله تعالی لوی ذات په قدرت او قبضه کې چې د ژوندیو وژل او د مړیو بیا ژوندي کول، یا له تیارو څخه رڼا ایستل، یا په رڼا کې د تیارو ننه ایستل دي (او د شپې او د ورځې سره اختلاف چې کله یې اوږدوي او کله یې لنډوي، کله یې یخوي او کله یې تودوي)؛ نو د دی لوی قدرت په مقابل کې دغه څه سختي او اشکال لري چې تاسې بیا ژوندي کړي، او له سترګو څخه مو دا د جهل پردې لرې کړي؟ څو وروسته له هغه اشیاوو حقائق ډېر په ښه صورت سره درمنکشف شي، لکه چې په قیامت کې به کیږي: ﴿فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ﴾.

بَلْ قَالُوا مِثْلَ مَا قَالَ الْأَوَّلُونَ ﴿٨١﴾ قَالُوا أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿٨٢﴾
لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَآبَاؤُنَا هَٰذَا مِن قَبْلُ إِنْ هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٨٣﴾

بلکه وايي (دا کفّار) په شان د هغې وينا چې ويلې ده پخوانيو کفّارو. چې (ويلی وو هغه قول پخوانيو کفّارو چې دغه دی:) ويل دوی: کله چې مړه شو مونږ، او شو مونږ خاورې او هډوکي (وراسته)؛ نو آيا مونږ به خامخا بيا ژوندي راپاځول کيږو (بلکه نه کيږو). خامخا په تحقيق وعده کړی شوې ده له مونږ سره، او له پلرونو ځمونږ سره همدغه وعده پخوا له دې، نه دي دا خبرې مګر دروغجنې قصې دي د پخوانيو خلقو.

تفسير: يعنې کفّار وايي: دغه له سره د عقل او فهم خبرې نه دي، محض د پخوانيو خلقو د ړندو په تقليد پسې رهي (روان) دي، او همغه پخواني دقيانوسي شکوک او شبهات راوړاندې کوي، چې له دوی نه مخکې به ړومبنيو خلقو هم کول، يعنې وروسته له دې نه چې مونږ په خاورو کې ګډوډ شو؛ نو بيا به څرنګه ژوندي کيږو؟ داسې له عقله او پوهې لرې خبرې چې مونږ ته اورولې شي؛ پخوا له دې نه ځمونږ پلرونو او نيکه ګانو ته هم شوي دي، ليکن مونږ تر نن ورځې پورې د خاورې له ذراتو او د ورستو هډوکو له بڅرکو د انسان خلقت او ژوندون نه دی ليدلی.

قُلْ لِّمَنِ الْأَرْضُ وَمَن فِيهَا إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٤﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٨٥﴾

ووايه (اې محمده ! دغو منکرانو ته) چې چاته ده دغه ځمکه او هغه مخلوقات چې په هغې کې دي (خلقًا ومُلکا وعَبيدًا) که چېرې يئ تاسې چې پوهېږئ؟ (نو راوښيئ خالق او مالک يې !). نو ژر وبه وايي: خاص الله ته دي، ووايه (ای محمده دوی ته: نو) آيا پس تاسې پند نه اخلئ (او غور پرې نه کوئ؟).

تفسير: چې د هغه الله تعالی قبضه پر ګرده ځمکه او د ځمکې پر ګردو شيانو ده؛ نو آيا دغه ستاسې يو موټی خاوره به د هغه له قدرته خارجه وي؟.

قُلْ مَن رَّبُّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ﴿٨٦﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٨٧﴾

ووايه: څوک دي رب د اسمانونو اوو، او رب د عرش ډېر لوی؟. نو ژر وبه وايي دوی چې (دغه ټول خلقًا ومُلکا وعَبيدًا منسوب) الله ته دي، نو ووايه (ای محمده دوی ته چې) آيا پس نه ويرېږئ تاسې (له عذابه د الله، او ځان نه ساتئ له شرکه؟).

تفسير: چې دومره لوی مالک الملک به تاسې د دغو ګستاخيو او سپين سترګيو په بدل تر کوم ځای پورې کش کاږي؟ آيا دغه انتهايي ګستاخي او سپين سترګي نه ده چې هغه مطلق مالک الملک مو په خپل زعم له يوې بې مقداره ذرې څخه هم عاجز او ناتوانه دروئ؟.

قُلْ مَن بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ ﴿٨٩﴾

ووايه (ای محمده دوی ته چې) څوک دی هغه ذات چې په لاس د ده کې باچاهي تصرّف دی د هر څيز، او دی پناه ورکوي (مخلوقاتو ته) او پناه نه ورکوله کيږي په (ضرر د) ده باندې که يئ تاسې چې پوهېږئ؟.نو ژر وبه وايي چې (دا صفات) خاص الله ته دي، ووايه (ای محمده دوی ته) پس څرنګه تګي درباندې کوله شي (او ګرځئ له حقه، يا کوم طرف ته سحر درباندې کاوه شي).

تفسير: يعني په هر څيز د الله تعالى واک او اختيار چليږى، او الله چې چاته د پناه ورکولو اراده وکړي پناه ورکوئ، مګر بل هيڅوک ده الله تعالى مجرم ته پناه نشى ورکولى نو ژر به دوى ووايې چې دغه خاص صفات الله تعالى ته دي، نو ورته ووايه اى محمده له کوم طرفه مکر او فريب در باندى کولى شې چې د هغه له امله تاسى مسحور شوي ياستئ او حق نه قبلوئ؟.

بَلْ أَتَيْنٰهُمْ بِالْحَقِّ وَإِنَّهُمْ لَكٰذِبُونَ ﴿٩٠﴾

بلکه راتله مو کړي دي دوى ته په حق (چې قرآن، توحيد او بعث بعد الموت مو ورته راوړى دى)، او بېشکه دوى خامخا دروغجنان دي (چې ترې انکار کوي).

تفسير: يعني په دلائلو او شواهدو سره ظاهر کړى شوي دي، چې هر هغه چې دوى ته ويل کيږي؛ بيخي صحيح او حق دي، او دغو خلقو محض د دروغو خيالاتو متابعت کړى دى.

مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلٰهٍ إِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلٰهٍ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٩١﴾

نه دى نيولى الله هيڅ ولد، او نشته ورسره هيڅ معبود (شريک په الوهيت کې)، او که وى ورسره بل معبود؛) نو په دغه وخت کې خامخا بيولى او (بېل کړى) به وو هر يو معبود هغه مخلوق چې پيدا کړى يې وو (دوى له نورو مخلوقاتو خپل ځان ته)، او خامخا غلبه کوله ځينو د دوى پر ځينو نورو، پاکي ده الله لره له هغه چې بيانوي يې (له ولد او شرک).

تفسير: يعني د ځمکې او د اسمان او تر ذراتو پورې د ټولو موجوداتو او مخلوقاتو مالک او مختار همغه الله جل جلاله دى، نه الله تعالى ځوى، لور ته محتاج، او نه مددګار يې په کار دى، او نه د ده په حکومت او سلطنت کې هيڅ کوم داسې شريک شته چې د يوې ذرې په اندازه د مستقل اختيار خاوند وي، او که داسې وى؛ نو د هر بااختياره حاکم رعايا به سره ببلېده، او خپل لاو لښکر به يې ټولاوه، او په هغه بل به يې يرغل (حمله) ورووړ، او د عالم دغه مضبوط او محکم نظام به يې د څو ورځو له مخې هم قائم نه پاتې کېده.

عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهٰدَةِ فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٩٢﴾

عالم دى پر پټو او په ښکاره وو، پس ډېر لوى (پورته لوړ) دى له هغه څيز چې شريکوئ يې ورسره.

تفسير: يعني چې د هغه د عام او تام قدرت حال پخوا له دې نه بيان شوى دى، او د هغه محيط علم داسې دى چې له هغه ځنې هيڅ يو ظاهري او باطني او د غيب او شهادت خبرې پټې او مخفي نه دي، آيا د ده په قدرت کې هغه شيان شريکېدى شي چې د هغوى قدرت او علم او نور ګرد صفات محدود او مستعار دي؟ استغفر الله !.

قُل رَّبِّ إِمَّا تُرِيَنِّي مَا يُوعَدُونَ ﴿٩٣﴾ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِي فِي الْقَوْمِ الظّٰلِمِينَ ﴿٩٤﴾

ووايه (اى محمده !) اى ربه ځما ! که چېرې وښيې ته ما ته هغه (عذاب) چې وعده يې کوله شي (له دوى سره). اى ربه ځما ! پس مه ګرځوه ما په قوم ظالمانو کې.

تفسير: يعني څرنګه چې د الله تعالى په دربار کې د کفّارو له خوا داسې ګستاخي او سپين سترګي تر سره کيږي؛ نو يقيناً کوم سخت عذاب به نازليږي، نو ځکه هر مؤمن ته هدايت شوى دى چې د الله تعالى له عذابه ووېرېږي، او داسې

دعاوې وکړي: «ای الله تعالی ! کله چې پر ظالمانو عذاب نازلوې؛ ما په هغه کې مه شاملوه !»، لکه چې په حدیث کې راغلي دي: «وإذا أردت بقوم فتنة فتوفني غير مفتون»، مطلب دا چې: ای الله تعالی ! مونږ د ایمان او احسان په لاره کې مستقیم ولره، او داسې کوم تقصیر له مونږه صادروه مه چې «العیاذ بالله» ستا په عذاب کې شامل شو، په بل ځای کې داسې ارشاد دی: ﴿وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً﴾ (۹ جزء د الأنفال (۲۵) آیت (۳) رکوع)، دلته یې رسول الله مبارک مخاطب ګرځولی دی، خو اصلي مقصد یې نورو ته اورول او پرې خبرول دي، لکه چې د دغه عظیم الشأن قرآن عمومي عادت دی.

وَإِنَّا عَلَىٰ أَن نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقَادِرُونَ ﴿٩٥﴾ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ السَّيِّئَةَ ۚ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَصِفُونَ ﴿٩٦﴾

او بېشکه مونږ په دې کار چې وښیو تاته هغه عذاب چې وعده یې کوو له دوی سره خامخا قادر یو (لیکن مؤخر کوو یې حکمتًا ومصلحتًا). دفعه کړه (ای محمده !) په هغه خصلت سره چې هغه ډېر ښه دی بدي (او ضرر د دوی تاته)، مونږ ته ښه معلوم دی هغه (خبرې) چې ستایي دوی (تا یا ما، نو ور به کړو پرې دوی ته جزاء).

تفسیر: یعنې دغه ځمونږ په قدرت کې دی چې ستاسې تر سترګو لاندې به همدغې دنیا کې هغوی ته سزا ورکړو، لیکن ستاسې د لوړ مقام او د لوړې مرتبې او اعلی اخلاق مقتضی داسې ده، چې د هغوی بدي په نېکۍ سره دفع کړئ !، تر هغه پورې چې د هغو د دفع امکان وي، او له دغسې چتې خبرو ځخه خفه نشئ، مونږ ته د دوی ټول اعمال معلوم دي، او په ټاکلي وخت کې به هغوی ته کافي سزا ورکوله کیږي.

وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ ﴿٩٧﴾

او ووایه (ای محمده !) ای ربه ځما پناه غواړم په تا پورې له چخولو (وسوسو) د شیطانانو نه (چې راکاږي خلق ضلالت ته).

تفسیر: پخوا د شیاطین الانس سره د سلوک او ګزارې طریقه ښوولې شوې وه، لیکن شیاطین الجن په دغه طریقه سره نشو متأثر کېدلی، او هیڅ یو تدبیر او پوست وضعیت په هغوی اثر نشو غورځولی، او نه پرې سمېدل، د دوی علاج یواځې په استعاذه سره کیږي، یعنې د الله تعالی په پناه کې ښایي چې سړی ورشي، څو هغه مطلق قادر د دوی د لاس اوږدولو او وسوسو ځخه یې محفوظ کړي.

وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحْضُرُونِ ﴿٩٨﴾

او پناه غواړم په تا پورې ای ربه ځما ! چې حاضر شي (دوی) ماته (په لمانځه یاتلاوت د قرآن یا په ځنکدن کې).

تفسیر: یعنې په هیڅ یوه حال کې مې مه پرېږده چې شیطان ماته رانژدې شي، یا خپل وار او ګزار پر ما وکړي.

حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ ﴿٩٩﴾ لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ كَلَّا ۚ إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا ۖ وَمِن وَرَائِهِم بَرْزَخٌ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٠٠﴾

تر هغه پورې کله چې راشي یو د دوی ته (اسباب د) مرګ؛ نو وبه و ایي: ای ربه ځما ! بېرته وګرځوه ته ما (دنیا ته). ښایي چې زه عمل وکړم نېک په هغه ځیز کې چې بېرته پرېښی دی ما

(په دنيا کې، نو فرمايي الله چې) نه دي داسې (چې ته ببرته دنيا ته وګرځېدی شې، ايمان او صالح عمل ته) ببشکه دغه د رجعت خبره داسې چتې (بېکاره) خبره ده چې دی ويونکی د هغې دی، او په مخ کې د دوی دی برزخ (پرده د قبر ده، چې يې نه پرېږدي رجوع ته) تر هغې ورځې پورې چې بيا ژوندي راپاڅولی کيږي.

تفسير: يعنې تاسې دغه د کفّارو بدي په ښه طريقه سره دفع کوئ ! او هغه خبرې چې دوی يې جوړوي؛ هغه مونږ ته راپرېږدئ !، تر هغه پورې چې د دوی د ځينو د موت وخت راشي، او د نزع په وخت کې د عذابونو مبادي معاينه کړي، او په افسوس او ارمان کولو شروع وکړي، او په هغه وخت کې داسې تمنّا وکړي چې ای الله ! د قبر د ورتللو په ځای ما پرېږده چې ببرته دنيا ته لاړ شم !، او د خپلو تېرو تقصيراتو تلافي وکړم !، او څه نېک اعمال او د آخرت پانګه (سرمايه) ځان ته برابره کړم !، او وروسته له دې نه بيخي له ګناهونو او خطاوو او بدو چارو څخه لاس واخلم !، او بالکل ورنژدې نشم !، نو په دغه وخت کې به ای پروردګاره ! ستا لوی لطف او مهرباني وي، کما قال الله تعالى: ﴿وَأَنفِقُوا مِن مَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَا أَخَّرْتَنِي إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ الصَّالِحِينَ﴾ (٢٨ جزء، د المنافقون سورت (٢) رکوع (١٠) آيت).

نو پاک الله به «ملائكة العذاب» ته وفرمايي چې: دغو منکرانو ته ووايئ: نه ده داسې چې ته به ببرته دنيا ته وګرځېدی شې لپاره د ايمان او د صالح عمل، ببشکه دغه کلمه د رجعت يوه داسې چتې (بېکاره) خبره ده چې دی ويونکی د هغې دی، يعنې د اجل د راتګ څخه وروسته د دغه مقصد لپاره له سره نه ستانه (واپس) کيږي، او که بالفرض ستانه هم کړل شي؛ نو دوی به بيا له سره صالحه اعمال ونه کړي، او بيا به په همغو ملاهيو او مناهيو کې مشغوليږي: ﴿بَلْ بَدَا لَهُم مَّا كَانُوا يُخْفُونَ مِن قَبْلُ وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ﴾ (٧ جزء د الأنعام سورت (٣) رکوع (٢٨) آيت).

فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ فَلَا أَنسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَتَسَاءَلُونَ ﴿١٠١﴾

نو کله چې پوکی وکړ شي په صور شپېلی کې (لپاره د قيام د قيامت)؛ پس نه به وي (نافع) نسبونه په منځ د دوی کې په دغه ورځ کې، او نه به پوښتنه کوي دوی يو له بله.

تفسير: يعنې د برزخ د عالم څخه وروسته قيامت ور په سر دريږي، د دويم صور (شپېلی) د پوکلو څخه وروسته ګرد مخلوقات به په يوه ميدان کې سره راټولوي او درول کيږي، په دغه وخت کې به هر سړی پخپل فکر او اندېښنه کې لګيا وي، اولاد له موره پلاره سره، ورور له وروره سره، مېړه له ښځې سره، او خپل له خپلوانو سره څه کار او غرض نه لري، او هر يو به له بل څخه نااشنا او بېزاره وي، هيڅوک به د بل پوښتنه نه کوي، لکه چې د «عبس» سورت په اوله رکوع کې مرقوم دي: ﴿يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ * وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ * وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ * لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ﴾، له دې نه وروسته امکان لري چې له ځينو قرابتونو او خپلوی څخه څه نفع وررسيږي، لکه څنګه چې الله تعالى د «الطور» سورت په لومړی رکوع کې فرمايلي دي: ﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَيْءٍ﴾.

تنبيه: په ځينو احاديثو کې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې: د قيامت په ورځ کې ګرد د «نسب» او «صهر» دا مادي تعلّقات منقطع کيږي، يعنې په کار نه ورځي «إلا نسبي وصهري» «علاوه ځما له نسب او صهره»، يا دا معنى چې دلته اوس په نسب فخر کوي، چې زه د هغه «شاه» او د دغه «خان» او د دې «صاحب» پلار يا ځوی يا ورور يا بل څه يم، او هلته به دې نسبت او دې سبب ته هيڅ يوه فائده نه وي، او به پوښتنه کوي دوی يو له بله د دې نسب او حسب، او دغه به په سبب د دې پرې مشغولتيا د دوی وي پخپل غم کې، او دغه به پخوا له حسابه وي، ځکه چې هلته به خلاصی په عمل وي لکه چې فرمايي:

فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٢﴾ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ فِي جَهَنَّمَ خَالِدُونَ ﴿١٠٣﴾ تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ ﴿١٠٤﴾

پس هر څوک چې درنې شي تلې (يا تللي شوي) عملونه د دوی (معتمد وګرځي په نزد د الله)؛ پس دغه کسان هم دوی دي بريالیان (کامیاب ـ له عذاب خلاص شوي په مراد رسیدلي). او هر هغه څوک چې سپک يې وختلې تلې (يا تللي اعمال) د ده (چې وزن نه کړي په نزد د الله)؛ پس دا هغه کسان دي چې زیان يې کړی دی د نفسونو خپلو (په کفر او عصیان سره، اوس دوی) په دوزخ کې به تل پراته وي. سوځوي مخونه د دوی اور (د دوزخ)، او دوی په دغه اور کې غونج وچولي (ګونجې تندي) (بدرنګه او بد مخي) به وي.

تفسیر: د دوی بدن به له ډېرو سوځېدو څخه وپرسیږي، لاندنۍ شونډه به يې ښکته ځوړندیږي، تر نامه پورې رسیږي، او پاسنۍ شونډه به يې تر ککرۍ هم ورپورته کیږي، او ژبه به يې (لکه د فیل شونډک) د باندې راووځي، او تر ځمکې به راوږدیږي: (اللهم احفظنا منه، ومن سائر أنواع العذاب).

نو وبه ویلی شي په عُقبا کې له جانبه د الله تعالی هغو کسانو ته چې زیان يې کړی دی د خپل ځان:

أَلَمْ تَكُنْ آيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿١٠٥﴾

آیا نه وو آیتونه (د قرآن) ځما چې لوستل کېده پر تاسې (په دنیا کې)؛ پس وئ تاسې چې پر هغو به مو تکذیب کاوه (چې اوس لایق د دې عذاب شوئ).

قَالُوا رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّينَ ﴿١٠٦﴾ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْهَا فَإِنْ عُدْنَا فَإِنَّا ظَالِمُونَ ﴿١٠٧﴾

نو وبه وایي (کفّار) ای ربه ځمونږ ! غالبه شوې وه پر مونږ بدبختي ځمونږ، او وو مونږ یو قوم ګمراهان (چې لاره د حق شیطان راځخه ورکه کړې وه). ای ربه ځمونږ ! (یو کرت) وباسه مونږ له دې دوزخه ! پس که بیا راوګرځېدو مونږ (دې کفر ته)؛ پس بېشکه مونږ ظالمان یو (پر ځانونو خپلو باندې).

تفسیر: یعنې دوی به اعتراف کوي چې بېشکه مونږ د خپلې بدبختۍ او بدقسمتۍ لامله دلته لویدلي یو، او د هغې صافې سمې لارې څخه په لوی لاس کاږه شوي یو، او په خپلو پښو د دغه ابدي هلاکت په کنده کې لویدلي یو، اوس مو له دغه ځایه وباسه !، او بېرته مو دنیا ته ولېږه چې ښه عملونه وکړو، او له ګناه او خطا څخه بېخي لرې وګرځو، او که بیا هم مونږ ستا د احکامو څخه غاړه وغړوله؛ بیا هره سزا چې راکوې، مونږ ستا په واک او اختیار کې یو، حال دا چې د دوی دغه وینا هم خطا ده، او دوی په کې دروغجنان دي، او دا وروستنی کلام دی د دوزخیانو، چې پس له دې خبرې څخه امر د سکوت به ورته وشي، نو دغو کفّارو ته د «ملائکة العذاب» په ژبه د الله تعالی له جانبه داسې امر کیږي:

قَالَ اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ﴿١٠٨﴾ إِنَّهُ كَانَ فَرِيقٌ مِنْ عِبَادِي يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ ﴿١٠٩﴾

وبه فرمایي چې تاسې چپ شئ (پراته اوسئ خوار ذلیل) په دې دوزخ کې او مه غږېږئ له ما سره (په دفع د عذاب کې). بېشکه شان دا دی چې وه یوه ډله له بندګانو ځما (یعنې مؤمنان) چې ویل

دوی (تضرّعًا): ای ربه ځمونږه ! ایمان مو راوړی دی (په ټولو مؤمن به شیانو)؛ نو ښښنه وکړه مونږ ته (د ګناهونو ځمونږ)، او مهرباني راباندې وکړه، او ته (ای پرودګاره !) خیر ډېر غوره د ټولو مهرباني کوونکیو یې.

تفسیر: یعنې خوشې چټې (بېکاره) او چپوله (فضول) خبرې مه کوئ !، اوس هر هغه څه چې مو کړي دي؛ د هغه سزا وګالئ (برداشت کړئ) !، له آثارو څخه معلومیږي چې د دې الهي ځواب د صدور څخه وروسته بیا داسې ناري سورې منقطع کیږي، او دوزخیان غیر له «زفیر» او «شهیق» څخه به بل کلام نه شي کولی، العیاذ بالله.

فَاتَّخَذْتُمُوهُمْ سِخْرِيًّا حَتَّىٰ أَنسَوْكُمْ ذِكْرِي وَكُنتُم مِّنْهُمْ تَضْحَكُونَ ﴿١١٠﴾

پس نیولي وو تاسې دوی مسخرې کړی شوي پر دوی، تر هغه پورې چې هېر کړ (مسلمانانو) له تاسې څخه ای کفّارو ذکر یاد ځما (په سبب د مشغولتیا د تاسې ای کفّارو په تمسخرو د مسلمانانو کې) او وئ تاسې چې په هغوی پورې مو خندل (هر وخت له ډېره کبره).

تفسیر: یعنې په دنیا کې کله چې مسلمانانو د خپل الله په حضور کې دعاء او استغفار کاوه؛ نو تاسې ورپورې ټوقې کولې، او دومره د هغوی په تحقیر او تکدیر پسې لویدلي وئ؛ چې پاک الله او د جزاء ورځ مو بیخي له یاده وتلې وه، او داسې مو ګڼل چې ګواکې ستاسې پر سرونو باندې له سره هیڅ یو حاکم او کتونکی نشته، چې ستاسې د داسې حرکاتو یاداشت واخلي، او د هغو سختو اعمالو سزا تاسې ته درکړي.

إِنِّي جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوا أَنَّهُمْ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴿١١١﴾

بېشکه زه چې یم جزا مې ورکړه دوی ته ښه جزا نن ورځ په سبب د هغه چې هغوی صبر کړی وو (په اضرار ستاسې)، بېشکه هغوی چې دي هم هغوی دي بریالیان (رسېدلي خپلو مقاصدو ته).

تفسیر: بېچاره ګانو مسلمانانو ستاسې پر قولي او فعلي ایذاوو او اضرارو صبر کړی وو، وګورئ چې نن ورځ ستاسې بالمقابل هغوی ته څه ثمره ور په برخه کیږي؟ او دوی داسې یو مقام ته رسولی شوي دي، چې هلته به پخپلو هر ډول مقاصدو بریالی او کامیاب او له هر قسمه لذائذو او مسرّاتو سره غاړه په غاړه وي.

قَالَ كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْأَرْضِ عَدَدَ سِنِينَ ﴿١١٢﴾ قَالُوا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَاسْأَلِ الْعَادِّينَ ﴿١١٣﴾

وبه فرمایي: څومره ځنډ (تأخیر) مو تېر کړی دی تاسې په ځمکه کې په شمار د کلونو؟. نو وبه وایي (کفّار): ځنډ (تأخیر) مو کړی دی یوه ورځ یا یوه برخه د ورځې، نو ته (پخپله) پوښتنه وکړه له حسابګرو څخه.

تفسیر: یعنې له پرښتو څخه چې هغوی هر قسم نیکۍ او بدۍ شمیرلي دي؛ دغه به یې هم شمېرلي وي چې «څومره ځنډ (وخت) مو تېر کړی دی په ځمکه کې، او څو مدّت مو هلته ژوند کړی دی»؟ یعنې په قبر کې یا د دنیا په ژوندون کې، دغه به هم هلته ډېر لږ په نظر رائي، دغه پوښتنه هم د دې لامله کیږي؛ چې په دنیا کې دوی عذاب ته ډېر زیات تلوار او عجلت کاوه، اوس وپوهېدل چې هغه ډېر په سرعت او جلتی سره ورورسېد (کذا في موضح القرآن).

قَالَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا لَّوْ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١١٤﴾

وبه فرمايي چې: نه دی ځنډ (تأخير) کړی تاسې (په دنيا کې) مګر لږ مدّت (په نسبت د عذاب د آخرت) که چېرې ښېشکه تاسې يئ چې پوهېږئ (چې ژوند د دنيا د عُقبی په نسبت ډېر لږ دی).

تفسير: يعنې واقعي د دنيا عمر خو ډېر لږ وو، ليکن که تاسې پر دغه خبره په دنيا کې د انبياوو په خبرو باندې پوهېدئ؛ نو له سره په دغه فاني متاع به نه مغرورېدئ، او له انجام څخه به نه غافلېدئ، او هغه ګستاخي او شرارتونه به له تاسې څنې نه صادرېدل، چې د دنيوي زائلو او فاني لذتونو د مشغوليت او مصروفيت په ضمن کې له تاسې څخه په ظهور ورسېدل.

أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴿١١٥﴾

آيا پس ګمان کوئ تاسې داسې چې ښېشکه خبره دا ده چې پيدا کړي مو يئ تاسې عبث (د لوبو لپاره)، او (داسې ګمان کوئ چې) ښېشکه تاسې مونږ ته نه به راوستلی کېږئ (حساب او کتاب ته).

تفسير: داسې نه ده، تاسې عبادت ته پيدا شوي يئ، او رجوع کوونکي يئ ځمونږ دربار ته لپاره د مجازاتو، يعنې په دنيا کې د نېکۍ او د بدۍ پوره نتيجه نه دررسېږي، که په دې ژوندون پسې بل ژوندون نه وي؛ نو ګويا دغه ګرده کارخانه به محض يوه لوبه او تماشا او بيخي يوه بې نتيجې شی وي، حال دا چې د الله تعالی ذات له دې نه ډېر اعلی او ارفع دی، چې د هغه په نسبت داسې رکيک خيال وکړ شي.

فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ ﴿١١٦﴾

پس ډېر پورته لوی لوړ دی الله (له عبثياتو او نورو عيوبو څخه) مطلق باچا حق دی، نشته هيڅوک لايق د عبادت په رښتيا مګر خو همدی (يواځې) چې رب مالک د عرش کريم عزتناک دی.

وَمَن يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِندَ رَبِّهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ ﴿١١٧﴾

او هر څوک چې بولي له الله سره معبود بل (چې د هغه عبادت هم کوي، هسې معبود چې) نه دی هيڅ برهان علمي سند ده ته په دغه (عبادت د غير)؛ پس ښېشکه همدا خبره ده چې حساب د دې (مشرک) په نزد د رب د ده دی (چې سم له استحقاقه يې ورکوي)، ښېشکه شان دا دی چې بری نه مومي کافران (او نه خلاصيږي له عذابه).

تفسير: يعنې هلته به حساب او کتاب کيږي، او هر چا ته به د ده له جرمه سره سم سزا ورکوله کيږي.

د دغه سورت ابتداء په فلاح او نجات د مؤمنانو سره کړی شوې ده، او ختم په عدم فلاح د کافرانو سره داسې شوې ده، چې په پای (آخر) کې يې ځمونږ رسول الله صلی الله عليه وسلم په استغفار او استرحام هم مأمور ګرځولی دی.

وَقُل رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَأَنتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ ﴿١١٨﴾

او ووايه (ای محمده !) ای ربه ځما ! مغفرت او رحم وکړه (پر محمد او امّت يې)، او ته خير بهتره ډېر غوره د ټولو رحم کوونکيو يې.

تفسير: يعني ځمونږ له تقصيراتو څخه راتېر شه ! او پخپل رحمت مو په دنيا او آخرت کې سرلوړي کړه ! ستا د بې نهايته رحمت په مقابل کې هيڅ شی مشکل نه دی.

تمّت سورة المؤمنون بفضله ومنّه و حسن توفيقه ونرجو منه إكمال بقية الفوائد.



سُورَةُ النُّورِ

«د (النور) سورت مدني دی، (۶۴) آيتونه (۹) رکوع لري، په تلاوت کې (۲۴) او په نزول کې (۱۰۲) سورت دی، وروسته د (الحشر) سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

سُورَةٌ أَنزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا وَأَنزَلْنَا فِيهَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ لَّعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿١﴾

دا يو سورت دی چې نازل کړی دی مونږ دا، او فرض کړی دی مونږ (احکام د) هغه، او نازل کړي دي مونږ په دې (سورت) کې آيتونه ښکاره لپاره د دې چې تاسې (پرې) پند واخلئ، (او غور په کې وکړئ).

تفسير: دغه سورت په ځينو نهايت ضروري احکامو، حدودو، امثالو، مواعظو، حقائقو، توحيد او په نورو اهمو تنبيهاتو او اصلاحاتو مشتمل دی، زياته ممتازه او پوهـه زياتوونکي برخه هغه ده، چې د (افک) له قصې سره تعلّق لري، پر أمّ المؤمنين بي بي عائشي رضی الله عنها منافقينو د دروغو تهمت کړی، په هغه کې ځينې مخلص مسلمانان هم ښويېدلي وو، چې د هغه خطرناکه اثر نه يواځې د بي بي عائشي صديقې رضی الله عنها پر وضعيت لوېده؛ بلکه له يوه حيثيته پخپله د رسول الله صلی الله عليه وعلی آله وصحبه وسلّم د مجد او شرف تر درباره هم رسېده، نو ځکه ضرورت واقع شو، چې لوی قرآن په پوره اهتمام او قوّت سره د داسې خوفناکې غلط کاری يا غلط فهمی اصلاح وکړي، او د تل لپاره د ايماندارانو غوږونه پرانيځي، څو وروسته له دې نه له سره د دښمنانو له تبليغاتو او انتشاراتو متأثر نشي، نو ځکه يې د دې سورت شروع په دغو الفاظو سره وفرمايله: ﴿سُورَةٌ أَنزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا﴾ الآية ـ څو مخاطبين وپوهيږي چې د ده مضامين ځان ته اهميت او يو خاص وقعت لري، او د ډېر محفوظ او ټينګ نيولو مستحق دي، او هغه صاف صاف نصائح چې په دغه سورت کې بيان شوي دي؛ هغه ګرد د دې وړ دي چې هر مسلمان ټينګ په خپل زړه کې ځای ورکړي، او تل يې په ياد ولري، او د يوې شېبې له مخې هم د ده د احکامو څخه غفلت ونه کړي، که نه د دين او د دنيا په تباهی او خرابی کې اخته کيږي.

الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ

هغه ښځه چې زنا يې کړي وي، او هغه سړی چې زنا يې کړي وي (او محصنان نه وي، او ثبوت شي زنا پر دوی په اقرار يا په شهادت)، پس وهئ تاسو ای (قاضيانو او حاکمانو) هر يو له دغو دواړو سل دُرې.

تفسير: دغه سزا د هغه زاني او زانيې ده چې آزاد عاقل او بالغ وي، او نکاح يې هم نه وي کړي، يا د نکاح څخه وروسته جماع يې نه وي کړي.

او هغه چې آزاد نه وي؛ پنځوس دُرې وهل کيږي، د هغه حکم پنځمې پارې د اولې رکوع په آخر کې مذکور دی، او هغه چې عاقل او يا بالغ نه وي؛ نو دی خو لا نه دی مکلّف شوی، په هر هغه مسلمان کې چې دغه ګرد صفات

(حريت، عقل، نكاح ـ جماع) موجود وي؛ نو داسې شخص ته «محصن» وايي، نو د دغه محصن سزا چې د زنا مرتكب شي، او پرې شرعًا اثبات شي؛ «رجم» وو، يعني په ډكو ويشتل، او سنګساري ده، لكه چې د المائدې په سورت كې يې د تورات په حواله فرمايلي دي: ﴿وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِنْدَهُمُ التَّوْرٰىةُ فِيهَا حُكْمُ اللّٰهِ﴾ الآية ـ او هغه حكم د الله رجم وو، لكه چې د هغه ځاى په تفاسيرو كې تېر شو، او رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه سره موافق فيصلې صادرې كړې وې، او فرمايلي يې وو: «اللهم إني أول من أحيا أمرك إذ أماتوه»، «اى الله ! زه هغه ړومبى سړى يم چې ستا هغه امر حكم مې ژوندى كړى دى چې محو او متروك كړى شوى وو»، بيا نه يواځې يهودان بلكه هومره داسې قسم واقعات چې وړاندې كېده؛ په هغو ټولو كې رسول الله صلى الله عليه وسلم تل محصن زاني ته په رجم سره سزا ورکړې ده، وروسته د رسول الله صلى الله عليه وسلم له رحلته أصحابه الكرام هم پر همدغه احكامو د «رجم» اجراءات كول، بلكه د اهل السنّت والجماعت څخه يو سړي هم د ده پر مخالفت جرأت نه دى كړى، ګواكې متواتره سنّت او د اهل الحق اجماع دغه خبره رابنوولې ده، چې په دغه مسئله كې محمدي شريعت د تورات حكم باقي پرېښى دى، لكه چې لوى قرآن د عمد قتل په سزا كې وژل كېدل د تورات په حواله فرمايلي دي: ﴿وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ﴾ او د مرتدانو د قتل حكم بني اسرائيلو ته وركول د البقره په سورت كې بيان كړى شوى دى: ﴿فَتُوبُوا إِلٰى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ﴾ بيا هم دغه احكام د محمد صلى الله عليه وسلم د امّت په حق كې هم اېښود شوي دي، شايد د محصن رجم او د قصاص د مسئلې د نقل كولو څخه وروسته په هغه شدّت او تاكيد چې د ﴿بِمَا أَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ د حكم د ترك مذمّت او بدي يې بيان فرمايلې ده، او په آخر كې ارشاد شوى دى: ﴿وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ الآية ـ له هغه به دا غرض وي چې د تورات دغه احكام اوس د قرآن تر حفاظت لاندې دي، چې د هغو په اجراء او انفاذ كې نه ښايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د هيڅا څه پروا ونه كړه، او د دوى څخه وروسته راشدو خلفاوو «رضي الله تعالى عنهم أجمعين» هم د چا لحاظ او پروا ونه كړه، تر دې پورې چې عمر رضي الله عنه ته د محصن د «رجم» په نسبت دغه اندېښنه پيدا بلكه مكشوفه شوه، چې وروسته له دې نه به ځينې زائغين د دغه احكامو له تعميله انكار كوي، لكه چې خوارج او ځمونږ د زماني يوې ممسوخې فرقې ترې انكار هم كړى دى؛ نو دوى په منبر وختل، او د صحابه وو او تابعينو په لويه مجمع كې يې د الله تعالى د دغه حكم اعلان په ډېر تأكيد او تشديد سره وفرمايه، او په دغه مورد كې بې د يو قرآني يو منسوخ التلاوت آيت حواله وركړه، چې په هغه كې د محصن د رجم صريح حكم موجود دى، او د هغه تلاوت وروسته منسوخ شوى دى، مګر حكم يې هم هغسې باقي پاتې دى.

تنبيه: د كوم آيت محض منسوخ التلاوت كېدل او حكم يې باقي پاتې كېدل يوه مستقله مسئله ده، چې تحقيق يې په دغو مختصرو فوائدو كې نشي درجېدى، ان شاء الله العزيز كه د مستقل تفسير د ليكلو وار راورسېد؛ نو هلته به وليكلى شي.

﴿وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللّٰهِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۖ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ۝٢﴾

او نه دې نيسي تاسو لره په دغو (دواړو زناكارانو) زړه سوى (او مهرباني) په (انفاذ د) حكم د الله كې؛ كه يئ تاسې چې ټينګ يقين لرئ پر الله او په ورځې آخرې (د قيامت)، او حاضر دې شي عذاب كولو د دې دواړو ته يوه طائفه ډله له مؤمنانو څخه (چې فضاحت يې زيات شي).

تفسير: يعني كه پر الله تعالى يقين لرئ؛ نو د هغه د احكامو او حدودو په اجراء او انفاذ كې هيڅ تقديم او تأخير مه كوئ !، داسې ونه كړئ چې د مجرم څخه وويرېږئ، او د سزا له اجراء څخه لاس وباسئ، يا په كې څه تنقيص وكړئ،

يا داسې غير مؤثرې خفيفې او معمولې سزاوې ورکړئ چې د سزا کيفيت په کې نه وي، ښه وپوهېږئ چې الله تعالى مطلق حکيم او له تاسې څخه زيات پر بندګانو مهربان دى، او د ده هر حکم کلک وي، که پوست؛ د عالم د مجموعې په حق کې له حکمت او رحمت څخه نشي عاري کېدى، که تاسې د ده د احکامو او حدودو په اجراء کې قصور کوئ؛ نو د آخرت په ورځ کې به ستاسې څخه پوښتنه کېږي.

﴿وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ «او حاضر دې شي عذاب کولو د دې دواړو ته ټولى له مؤمنانو»، يعنې دغه سزا دې ګوښې (بېله) ورته ورنه کړه شي !، بلکه د مسلمانانو په لويه مجمع کې دې ورته ورکړى شي، ځکه چې په هغه رسوايى کې د سزا تکميل او تشهير او کتونکو ته لوى پانيات او عبرت دى، او ښايي چې په کې دغه غرض هم وي چې دغه ليدونکي مسلمانان د ده پر حال باندې زړه وسوځي، او د مغفرت دعاوې ورته وکړي، والله أعلم.

اَلزَّانِي لَا يَنْكِحُ اِلَّا زَانِيَةً اَوْ مُشْرِكَةً ۫ وَّ الزَّانِيَةُ لَا يَنْكِحُهَآ اِلَّا زَانٍ اَوْ مُشْرِكٌ ۚ

زنا کار سړى نه نکاح کوي (په رغبت محبّت سره) مګر خو زناکاره ښځه يا مشرکه ښځه، او زنا کاره ښځه نه په نکاح کوي (دغې ښځې زانيې لره په رغبت او محبّت سره) مګر سړى زناکار يا سړى مشرک.

تفسير: د زنا د سزا د بيان کولو څخه وروسته د دې فعل انتهايي شناعت بيان فرمايي، يعنې هغه نارينه او ښځه چې په دغه شنيعه عادت مبتلا وي؛ په حقيقت کې د دې خبرې وړ او لايق نه دي چې له هغه سره د کوم عفيف مسلمان د ازدواج، د ناستې او ملاستې تعلق قائم کړ شي، د هغه د پليت طبيعت او ميلان سره خو دغه مناسب دي چې له همداسې بدکاره او تباه حاله نارينه او ښځې سره يا له دوى ځنې هم بدتره له کوم مشرک او مشرکې سره د هغه تعلّق وي، کما قال الله تعالى في هذه السورة: ﴿اَلْخَبِيثَاتُ لِلْخَبِيثِينَ وَالْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَاتِ ۚ وَالطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِينَ وَالطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَاتِ ۚ﴾.

وَحُرِّمَ ذٰلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ۝٣

او حرامه کړى شوې ده دغه (زنا يا نکاح له بد کارو سره د حاصلولو د مبلغ لپاره) پر (صالحانو عفيفانو) مؤمنانو.

تفسير: يعنې يو مؤمن په داسې حال کې چې مؤمن وي؛ څرنګه به داسې حرکت ته اقدام کوي؟ په حديث کې راغلي دي: «لا يزني الزاني حين يزني وهو مؤمن»، يا دا مطلب چې له زانيې سره د هغو پرهېزګارانو د نکاح عقد حرام درولى شوى دى، چې په صحيح او حقيقي معاني سره د مؤمنانو د خطاب مستحقان دي، يعنې په تکويني ډول دغسې پاک او صاف نفوس د داسې خراب او پليت او ګنده ځايونو په طرف نه متمائل کېږي، او ترې ساتلي شوي دي، په دغه وخت کې به د ﴿وَحُرِّمَ﴾ معنى هم هغسې وي چې په: ﴿وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ﴾ کې، يا په ﴿وَحَرٰمٌ عَلٰى قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَآ﴾ کې نيولې شوې ده، والله أعلم.

وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَاْتُوا بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ

او هغه کسان چې وُولي محصنې ښځې (يا محصن سړي چې نسبت د زنا ورته وکړي)، بيا رانه ولي (په مخ د قاضي حاکم کې) څلور تنه شاهدان؛

تفسير: يعنې که په داسې پاک لمنې ښځې باندې د زنا تهمت ولګوي، چې د دې بدکاري په کوم دليل يا په شرعيه وو قرائنو سره نه وي ثابته؛ (نو ووهئ تاسې دغو قاذفانو لره اى قاضيانو او حاکمانو اتيا دُرې، او مه يې قبلوئ شاهدي ځکه

چې سره له حُريّته بلـوغ، عقل، اسلام او پاکی فاسقان دي)، او همدغه حکم دی د پرهېزګار نارينه که پرې تُهمت ولګاوه شي، لکه چې دغه آيات د يوې پاکې عفيفې صدّيقې ښځې په قصه کې نازل شوي دي، نو ځکه دلته د هم هغو پر ذکر اکتفاء شوې ده، که څلور شاهدان تېر کړي، او د هغوی شهادت سم له شرعيه وو اصولو سره مقبول واقع شي؛ نو پر هغه مقذوف او مقذوفه به د زنا حد جاري کيږي.

فَاجْلِدُوهُمْ ثَمٰنِينَ جَلْدَةً وَّلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا ۚ

پس ووهئ تاسو (ای حاکمانو) دغه (قاذفان که اصيلان وي) اتيا دُرې، اومه قبلوئ تاسې له دوی نه شاهدي هيڅکله (تر وخته د مرګه پورې).

تفسير: دغه د «قاذف» تهمت لګونکي سزا شوه، چې د «مقذوف په مطالبه» اتيا دُرې وهل کيږي، او په مستقبل کې د تل لپاره په معاملاتو کې مردود الشهادت درولی کيږي.

وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُونَ ۙ

او دا (قاذفان) هم دوی دي فاسقان.

تفسير: يعنې که په واقع سره يې عمدًا په دروغو سره تهمت لګولی وو؛ بيا نو د ده فسق او نافرماني ظاهره ده، که په رښتيا سره واقعي خبره يې ويلې وي؛ ليکن په دې باندې پوهېده چې زه د څلورو تنو شاهدانو په شهادت خپله دغه دعوی نشم ثابتولی؛ نو د داسې خبرې له اظهاره غير له دې نه چې د يوه مسلمان پت او عزّت خراب کړي؛ بل څه ګټه (فائده) نه کوي چې هغه في نفسه مستقله ګناه ده، او علماؤ هغه په کبائرو کې شمېرلې ده.

اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا ۚ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

مګر هغه کسان چې توبه وباسي پس له دغه (قذفه له ګناه نه)، او اصلاح کړي (نيت او عمل خپل)؛ پس په تحقيق الله ښه مغفرت کوونکی (د خطيّاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: يعنې وروسته له توبې او د حال له اصلاحه؛ ښېونکی پاک مهربان الله به دا د فاسق نوم ترې پورته کوي، او د الله تعالی په نافرمانو بندګانو کې به نه شمېرلی کيږي.

وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ

او هغه کسان چې وُولي ښځې خپلې (محصنې پاکې له زنا څخه په زنا سره).

تفسير: يعنې د زنا تهمت ولګوي، يا خپل د ووړ کي په نسبت ووايي چې: دغه ځما له نطفې څخه نه دی.

وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ شُهَدَآءُ اِلَّآ اَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ اَحَدِهِمْ اَرْبَعُ شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝ وَالْخَامِسَةُ اَنَّ لَعْنَتَ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كَانَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝ وَيَدْرَؤُا عَنْهَا الْعَذَابَ اَنْ تَشْهَدَ اَرْبَعَ شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝ وَالْخَامِسَةَ اَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيْهَآ اِنْ كَانَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝

حال دا چې نه وي دوی ته شاهدان (په دې کار د زنا کې) مګر نفسونه د دوی (يعنې پخپله حاضر وي)؛ پس (واجبه ده په دې کې) شاهدي د يوه د دوی څلور شاهدي په (نامه) د الله (په دې خبره

چې) بېشکه دی خامخا له صادقانو رښتیا ویونکیو دی (په دغه نسبت د زنا کې). او پنځمه (شاهدي) (داسې ده چې) بېشکه لعنت د الله دې وي پر دغه (مېړه) که وي (دی) له دروغجنانو څخه. او دفع کوي له دغې ښځې څخه عذاب (د حدّ ثابتیدل په وینا د مېړه یې) دا (کار) چې شاهدي ولولي (دا ښځه) څلور (واړې) شاهدي (په نامه) د الله (په دې خبره چې) بېشکه دا مېړه ځما خامخا له دروغ ویونکیو دی (په نسبت د زنا په ما باندې). او پنځمه (شاهدي داسې ده) چې ووایي: بېشکه غضب د الله دې وي په دې (ښځې) که چېرې وي (دا مېړه مې) له صادقانو رښتیا ویونکیو څخه.

تفسیر: یعنې هر هغه مېړه (خاوند) چې پر خپلې ښځې د زنا تهمت ولګوي؛ اولاً: له ده نه به څلور شاهدان طلب کړه شي، که یې راحاضر کړي؛ نو پر ښځه دې د زنا حد جاري کړ شي، که یې شاهد نه شو حاضرولی؛ نو ده ته دې وویلی شي چې څلور ځلې دې په قسم یادولو سره بیان کړي چې زه په دغه تهمت کې چې مې پر خپله ښځه لګولی دی؛ دروغ نه وایم، ګواکې د څلورو شاهدانو په ځای پخپله د ده څلور (کرته) حلفیه شهادات دي، او په آخر کې په پنځمه مرتبه کې دغسې به وایي چې: «که دی پخپلې دغې دعوی کې دروغجن وي؛ نو پر ده دې د الله تعالی لعنت وي»، که د دغو پاس الفاظو د ویلو څخه انکار وکړي؛ نو د قذف په حدّ دې محکوم شي، چې پاس یې ذکر وشو.

که مېړه (خاوند) دغه الفاظ ووایي نو بیا ښځې ته دې وویل شي چې: هغه دې هم څلور ځلې په قسم یادولو سره داسې بیان وکړي چې: «مېړه (خاوند) مې په دغه تهمت لګولو کې دروغجن دی»، او پنځم ځلې دې دغه الفاظ ووایي چې: «د الله غضب دې نازل شي پر دې ښځه باندې؛ که یې دغه مېړه (خاوند) پخپله دغه دعوی کې رښتین وي»، تر څو که ښځه دغه الفاظ ونه وایي؛ نو د زنا حدّ به پرې جاري شي، یا په پاس مذکوره الفاظو سره یې تکذیب وکړي، که ښځه هم د خپل مېړه پشان دغه الفاظ ووایي، او له «لعان» څخه فراغت وموميِ؛ نو بیا له دغې ښځې سره جماع او د جماع دواعي ګرد حرام شول، د دواړو په منځ کې سره ابدي تفریق واقع شو، نو دغه تفرّق د بائن طلاق حکم لري.

تنبیه: پر زوجینو باندې دا قسم الفاظو لولولو ته په شریعت کې «لعان» وایي، او «لعان» خاص په قذف الأزواج پورې مخصوص دی، د نورو محصناتو ښځو د «قذف» حکم هم هغه دی چې پاس مذکور شو.

وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾

او که نه وی فضل (احسان) د الله پر تاسې او رحمت د ده، او (بل دا نه وی چې) بېشکه الله ډېر توبه قبلوونکی لوی حکمت والا دی؛ (نو رسوا او معذّب شوي به وی په دنیا کې).

تفسیر: د «لولا» جواب محذوف دی، لکه چې ځمونږ له ترجمې څخه ښکاریږي، چې که نه وی فضل او احسان د الله تعالی پر تاسو باندې؛ نو خامخا به یې شرمولي وی تاسو، یا ژر به یې په عذاب کړي وی تاسو، یعنې که دغه د «لعان» حکم مشروع شوی نه وی؛ نو د «قذف» د عمومي قاعدې سره موافق به پر خاوند قذف اوښته، یا به یې ګرد عمر د خپل ځیګر وینې څښلې، او لږمون خوږینی به ناست وو، ځکه ممکن دی چې دی رښتین وي، په خلاف د غیر د خاوند، چې هغه د دغسې اظهار لپاره مضطر نه دی، ځکه د هغه په قانون کې د دغو امورو رعایت ضروري نه دی، له بل لوري که یوائې د مېړه په قسم خوږلو د زنا ثبوت کېدی؛ نو د ښځې لپاره به ډېر سخت مصیبت او زحمت پېښېده، حال دا چې ممکن دی هغه رښتین هم وي، همداسې که ښځه د دې په قسم خوږلو سره یقیناً بریئه وګڼله شي؛ نو پر مېړه ه د قذف حد لازمېده، سره له دې چې د ده په صداقت کې مساوي احتمال موجود دی، نو په دغه حالت کې د «لعان» په مشروعیت کې د ټولو رعایت وشو، او همدغه د الله تعالی د فضل او رحمت اثر دی، ځکه چې په فریقینو کې هر یو چې رښتیین وي؛ هغه د بې محله سزا څخه نجات وموندە، په دغه وړې دنیا کې پرده پوښي کړی شو، او مهلت یې ورته ورکړی دی، چې ښایي توبه وباسي، بیا د ده د توبې قبلول دغه د الله تعالی د توابیت د صفت اثر شو.

إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ ۚ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم ۖ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُم مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ ۚ وَالَّذِي تَوَلَّىٰ كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١﴾

بېشکه هغه کسان چې راوړي يې دي غټ دروغ (په شان د عائشې کې)؛ يو ټولی دی له تاسې (مسلمانانو) نه، ګمان مه کوئ په دې (دروغو) چې شر بد دي تاسې ته (ای مخلصانو مؤمنانو)، بلکه دغه (دروغ) خير دی تاسې ته (له جهته د ثواب او منقبت د تاسې)، مقرر دی هر سړي ته له دغو (بهتان ويونکيو جزاء د) هغه څيز چې ګټلی يې دی له ګناه (په قدر د خوض او شغل د ده)، او هغه څوک چې پورته يې کړ لوی بار پېټی د دغو (دروغو او شائع يې کړل) له دغه (ټولې) نه؛ شته ورته عذاب لوی (په دارينو کې).

تفسير: دلته د هغو غټو دروغو ذکر دی، چې پر صديقې بي بي عائشې رضي الله تعالى عنها ټرلي شوي وو، دغه پېښه داسې وه، چې نبي کريم صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلّم د هجري په (۵) يا په (۶) کال کې د (بني المصطلق) له غزوې څخه د مدينې منورې په طرف بېرته تشريف راوړ، أم المؤمنين صدّيقه بي بي عائشه رضي الله تعالى عنها هم له دوی سره وه، بي بي صاحبه پر بل اوښ سوره وه چې پرې هودج (پالکی) ټرلی او پردې به يې ځوړندې او ښکته به وې، په يو منزل کې چې د دوی قافله ښکته شوې وه؛ لږ شېبه پخوا له کوچ صديقي بي بي عائشې ته د وضوء د تجديد ضرورت محسوس شو، نو ځکه له قافلې څخه څه قدر لرې لاړه، په دې ضمن کې يو ناڅاپه د دې د غاړې غاړکی (امبل) وشلېده، او دانې يې په شګو کې سره تيت و پرک شوې، نو د هغو په ټولولو او لټولو دا ډېره وخنډېده (ايساره شوه)، هلته قافلې کوچ وکړ، او له خپل ځايه ولټېدله، او ګرد سره لاړل، جَمّال هم داسې ګمان وکړ چې لکه بي بي صاحبه په هودج (پالکي) کې ناسته ده، ځکه چې د هغه ګردې پردې ښکته ځوړندې وې، او ذاتًا بي بي صاحبه په عمر کې هم وړوکې او په بدن کې هم ډېره ضعيفه او نحيفه وه، چې د دې د وجود او عدم وجود له هودج (پالکي) د باندې ښه نه څرګندېده.

الغرض جَمّالانو خپل اوښان رهي او چالان کړل، او ګرد سره لاړل، کله چې أم المؤمنين بېرته راغله، ګوري چې قافله تللې ده، او هيڅ اثر او نښه يې هم نه ښکاري، نو أمّ المؤمنين په نهايت ثبات او استقامت سره دغسې رأيه قائمه کړه، چې اوس له دغه ځايه خوځېدل خلاف المصلحت دي، ولې که زه د دغو شګو په کړمونو کې د قافلې تعقيب هم وکړم؛ په هغوی پسې نشم رسېدی، او امکان لري چې لاره هم راڅخه ورکه شي، که دلته واوسېږم هر کله چې لمر وخيژي، او ځما متعلقين په دې وپوهيږي چې زه په هودج کې نه يم؛ نو هرومرو به همدلته په منډه او ځغاسته راپسې راشي، نو هملته پاتې شوه.

کله چې شپه وه، پر أم المؤمنين د خوب شومه راغله، هملته يې خپل مبارک سر کښېود، کله چې صفوان بن مُعَطّل رضي الله تعالى عنه د رسول أکرم صلى الله عليه وسلم په امر مأمور وو، چې تل به دی وروسته له قافلې راځي، او د پاتې شويو شيانو خبر نيونه به کوي، نو ځکه دی تل د قافلې څخه په لږ فاصله لرې اوسېده، او همېشه د قافلې تر شا وروسته له پلټنې (تحقيق) به راته، صفوان بن مُعَطّل رضي الله تعالى عنه دغه ځای ته ګهيځ (سحر) راورسېد، او له لرې څخه يې وليد چې کوم اوده پروت دی، کله چې ورنژدې شو؛ نو د ورپېژلي (نغښتلي) شوي ټکري (څادر) څخه يې وپېژنده چې دا خو ځما مور أم المؤمنين صديقه بي بي عائشه ده، ځکه چې پخوا د حجاب د حکم له نزوله همدغه معنوي ځوی او مور سره پېژندل.

صفوان بن مُعَطّل رضي الله تعالى عنه د دغه وضعيت د ليدلو څخه سخت ولړځېد، او ډېر وويرېد، او په زور يې ﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾ وويل، چې د هغه په اثر د أم المؤمنين رضي الله تعالى عنها سترګې خلاصې شوې، او هم هغسې مخ پېچلې (پټ مخ) او په خپل ټکري کې تاو شوې کېناسته.

صفوان بن مُعَطّل رضي الله تعالى عنه خپل اوښ أم المؤمنين رضي الله تعالى عنها ته نژدې چو کړ، او أم المؤمنين رضي الله تعالى عنها هم هغسې پټه پرې سوره شوه، اوصفوان رضي الله تعالى عنه د اوښ مهار پر خپله اوږه باندې کښښود، او د قافلې تر شا روان او ورسره ګډ شول.

رأس المنافقين و امام المكذبين عبد الله بن أُبَيّ چې د منافقانو مشر وو او د رسول الله صلى الله عليه وسلم دښمن وو، دلته چې داسې يوه خبره او موضوع ورپيدا شوه؛ نو په چټې خبرو يې خوله وسپړله، او ځينې ساده مسلمانان مثلاً په نارينه وو کې حسان، مِسطح، او په ښځو کې حمنه بنت جحش رضي الله تعالى عنهم أجمعين د منافقانو په دغه انتشاراتو او ګمراه کوونکيو خبرو تېروتل، او په دغسې افسوسناکو تذکرو کې سره لګيا شول، چې د هغو ويل دوی ته نه وو لازم، او د أمّ المؤمنين رضي الله تعالى عنها د عفّت او عصمت سره بيخي منافي وو، مسلمانانو ته بالعموم او پخپله رسول أكرم الله صلى الله عليه وسلم ته له داسې قسم واهياتو خبرو څخه سخته صدمه ورسېده، تر يوې مياشتې پورې دغسې چټې خبرې سره کېدې، او رسول الله صلى الله عليه وعلى آله وصحبه أجمعين به هم دغه ګردې خبرې اوريدې، او هيڅ به يې نه ويل، او نه د هغو په تحقيق پسې ګرځېده، مګر په زړه کې سخت خفه وو، وروسته له يوې مياشتې پخپله أم المؤمنين عائشه صديقه رضي الله تعالى عنها هم له دغه شهرت څخه خبره شوه، نو د غم له شدّته ناقراره شوه، او د رنځورۍ په بستره کې ولوېده، شپه او ورځ به يې ژړل، او د يوې شېبې له مخې به يې هم اوښکې نه دريدې، په دغه ضمن کې نور واقعات هم پېښ شول، او ډېرې خبرې اترې سره کېدلې، چې په صحيح بخاري شريف او نورو کې د لوستلو قابل دي، او بالآخر أمّ المؤمنين صديقې رضي الله تعالى عنها په برائت کې الله تعالى دغه آيت: ﴿إِنَّ الَّذِينَ جَاءُو بِالْإِفْكِ﴾ الآية ـ تر لرې ځايه پورې نازل وفرمايه، چې أم المؤمنين عائشې صديقې رضي الله تعالى عنها تل فخر پرې کاوه، او بالحق چې پر دغه هومره فخر او ويار چې وکړي؛ لږ دی.

﴿عُصْبَةٌ مِّنكُمْ﴾ الآية ـ «يو ټولی دی له تاسو مسلمانانو څخه»، يعنې دغه دروغ ترونکي له خيره سره همغه کسان دي چې په دروغو يا په رښتيا سره د اسلام مدّعيان دي، خو بيا هم د الله تعالى لوی احسان دی، چې ګرد مسلمانان په دغه لومه کې نه دي نښتي.

﴿لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ الآية ـ دغه خطاب د هغو مسلمانانو د تسلۍ لپاره دی، چې هغوی ته له دغې واقعې څخه صدمه رسېدلې وه، بالخصوص صديقې بي بي عائشې رضي الله تعالى عنها او د دې کورنۍ ته، ځکه ظاهر دی چې هغه ډېره سخته خفه او ويرجنه وه، يعنې اګر که په ښکاره ډول دغه ويناوې ډېرې مکروهې خفه کوونکې او خرابي دي؛ ليکن في الحقيقت تاسې ته د ده په منځ کې ډېره بهترې او محاسن پټ وه، آيا دومره مدّت د تاسې پر داسې زړه خوږوونکو حملو او ايذاوو صبر کول هم داسې بې اجره پاتې کيږي؟ آيا دغه لږ فخر او شرف دی چې بالذات خالق الكائنات پخپل پاک کلام کې ستاسې نزاهت او برائت نازل کړ؟، او ستاسې دښمنان يې خواروزار او رسوا کړل، او تر قيامت پورې يې ستاسې د خير ذکر د ګردو قرآن لوستونکيو پر ژبه جاري کړ، او مسلمانانو ته يې د رسول الله صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلّم او د ده د ازواجو او اهل البيت د حق پېژندلو لپاره داسې يو درس ورکړ؛ چې له سره هېر بدونکی نه دی، فلله الحمدُ والشكرُ على ذلك، ﴿لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُم﴾ مقرره ده هر سړي ته له دغو بهتان ويونکو جزا د هغه چې ګټلې يې ده له ګناه او هغه څوک چې پورته يې کړ لوي بار ددغه دروغو ورته شته عذاب لوي، يعنې هر هغه سړي چې په دغه فتنه کې هومره حصه واخيسته هم هغه قدر ګناه يې د خپل ځان لپاره وګټله او د هغی سزا مستحق شو، او ددی ګناه ډېر لوی بار اخيستونکی رأس المنافقين عبد الله بن أبی وو چې دده له لپاره په اخرت کې ډېر لوي عذاب دي او په دنيا کې هم ډېر ذليل او رسوا شو.

لَّوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا۟ هَٰذَآ إِفْكٌ مُّبِينٌ ﴿١٢﴾

ولې نه په هغه وخت کې چې واورېده تاسې دا خبره؛ ګمان کاوه ایماندارو سړیو او ایمان دارو ښځو په نفسونو خپلو (پخپلو منځونو) کې د خیر (خبرې) او ویلې وی (دوی ټولو داسې) دا خبره دروغ ده ښکاره.

تفسیر: یعنې مسلمانانو ته ښایي چې له خپلو مسلمانانو ورونړو خویندو سره حسن ظن ولري، او هر کله چې واوري چې خلق پر یو نېک سړي همداسې بدې خبرې او خراب تهمتونه لګوي؛ نو ښایي چې دی داسې خیالاتو ته پخپل زړه کې لار ور نه کړي، بلکه د هغو تکذیب دې وکړي !، رسول کریم صلی الله علیه وعلی آله وصحبه وسلّم فرمایلي دي: «هر څوک چې پشې شا د خپل یوه مسلمان ورور مدد وکړي؛ نو الله تعالی هم د ده پشې شا مدد کوي».

لَّوْلَا جَآءُو عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ ۚ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا۟ بِٱلشُّهَدَآءِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ عِندَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْكَٰذِبُونَ ﴿١٣﴾

ولې نه راوسته (او تېر نه کړ دوی) په دې خبرو څلور شاهدان (چې شاهدي ورکړي په دې قذف د دوی)، پس کله یې چې رانه وستل څلور شاهدان؛ پس دغه کسان په نزد د الله کې همدوی دروغجنان دي.

تفسیر: یعنې سم د الله تعالی له حکمه او د ده د شریعت سره موافقه دغسې خلق دروغجنان درولي شوي دي، چې په بل چا باندې تهمتونه لګوي، او بیا د هغه د اثبات لپاره څلور شاهدان نشي وړاندې کولی، او بې له کافي ثبوته داسې غټې خبرې له خپلې ژبې څخه وباسي، او چټې (بېکاره) پرې وکړي.

وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِى مَآ أَفَضْتُمْ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٤﴾

او که نه وی فضل احسان د الله پر تاسې او رحمت د دغه (الله پر تاسې) په دنیا کې (په توفیق د توبې سره)، او په آخرت کې (په عفو او مغفرت سره)؛ نو خامخا رسېدلی به وو تاسې ته په هغه دروغ کې چې غوپې وهلې تاسې په هغو (دروغو) کې عذاب لوی (په همدغې دنیا کې).

تفسیر: یعنې الله تعالی دوی ته د خپل فضل او کرم له امله له عذابونو څخه نجات ورکړ، که نه دغه خبره د عذاب لایقه وه.

إِذْ تَلَقَّوْنَهُۥ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَٰهِكُم مَّا لَيْسَ لَكُم بِهِۦ عِلْمٌ وَتَحْسَبُونَهُۥ هَيِّنًا وَهُوَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمٌ ﴿١٥﴾

کله چې واخیست تاسو دا (افک) په ژبو خپلو (چې یو له بله مو پوښتنه کوله)، او ویله به مو په خولو خپلو سره هغه خبره چې نه وو تاسو ته په هغې باندې هیڅ علم، او ګڼله تاسې دغه خبره آسانه (چې هیڅ ګناه په کې نشته)، حال دا چې دغه (خبره) په نزد د الله کې ډېره لویه ده (له حیثیته د ګناه نه).

تفسیر: یعنې د عظیم عذاب مستحق ولې نه کېدل، کله چې تاسې بې تحقیقه یو ظاهر البطلان خبره یو د بل له خولې څخه اخیستله، او له خپلو ژبو څخه یې دغه چټې (بېکاره) اواټکلي خبرې ایستلې، چې د هغو له واقعیت څخه تاسې بیخي نه وئ خبر، بیا عجیبه خبره لا دا ده چې داسې سخته خبره (یعنې کومه محصنه خصوصًا د نبي علیه السلام مطهره زوجه او ځمونږ د مسلمانانو روحاني والده متهم کول) چې د الله تعالی په نزد ډېر لوی درونده جرم دی؛ یوه وړوکې او معمولې خبره ګڼل له دغه اصلي جرم څخه لوی جرم دی.

وَلَوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم مَّا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا سُبْحَٰنَكَ هَٰذَا بُهْتَٰنٌ عَظِيمٌ ﴿١٦﴾

ولې نه کله چې واورېده تاسې دا خبره؛ چې ویلي وئ تاسې نه ښایي مونږ ته دا کار چې خوله وخوځوو په دې خبره باندې، پاکي ده تاته ای ربه، دا دروغ دي ډېر لوی (چې ترلی شوي دي د منافقانو له خوا).

تفسیر: اول خو د حسن الظن اقتضاء داسې وه چې ستاسو په زړونو کې هم ښایي دغه خبرې نه تېرېدی لکه چې پاس ارشاد وشو، لیکن که د شیطاني اغواء له سببه یې فرض کړئ د چا په زړه کې کومه بده وسوسه تېره شي، یا یې له چا نه واوري؛ نو بیا جائز نه دي چې داسې ناپاکه خبره پر خپله ژبه راوړي، لازم دي چې په هسې مواردو مؤمن خپل حیثیت او دیانت ملحوظ ولري، او په صافو الفاظو سره داسې ووایي، چې د داسې بې سرو پښو خبرې له خپلې ژبې څخه ایستل ماته نه ښایي، او نه زه پرې ښه ښکارم.

يَعِظُكُمُ ٱللَّهُ أَن تَعُودُوا۟ لِمِثْلِهِۦٓ أَبَدًا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧﴾

پند درکوي تاسې ته الله (او منع کوي مو) چې بیا ونه ګرځئ تاسې مثل د دې خبرې ته هیڅکله، که چېرې یئ تاسې مؤمنان (نو پرې عبرت واخلئ !).

تفسیر: یعنې مؤمنانو ته ښایي چې په پوره ډول سره پوهان او هوښیاران شي، څو د بد باطنو منافقانو په چلونو او فرېبونو سره ونه غولیږي، او د دوی په پلمو (تدبیرونو) سره تېر نه وځي، او تل تر تله د نبي صلی الله علیه وعلی آله وصحبه وسلّم او د ده د اهل بیتو د عظمت شان ملحوظ ولري.

وَيُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْـَٔايَٰتِ ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٨﴾

او بیانوي الله تاسې ته آیتونه (د پند)، او الله ښه علم والا دی، ښه حکمت والا دی.

تفسیر: یعنې د دغې خبرې پته درښیي چې دغه غټ دروغ چا جوړ کړي؟ او خپور (مشهور) کړي دي؟، معلوم شو چې منافقانو تل په پټه دښمني او مخالفت کاوه، په پخواني آیت کې یې دغه خبره راښکاره کړې وه (کذا في الموضح).

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ ٱلْفَٰحِشَةُ فِى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿١٩﴾

بېشکه هغه کسان چې خوښوي دغه (خبره) چې خوره شي فاحشه بدنامي په حق د هغو کسانو کې چې ایمان یې راوړی دی؛ شته دغو (کسانو) ته عذاب دردناک په دنیا کې (په حدّ د قذف او په بدنامۍ سره)، او په آخرت کې (په اور د دوزخ سره)، او الله ښه عالم دی، او تاسې نه پوهېږئ (پر ضرر د هغې خورې کړې فاحشې).

تفسیر: یعنې بدکاري خوره او شائع شي، یا د بدکارۍ اطلاعات او خبرې منتشرې او خورې شي، دغسې غوښتونکي منافقان وو، لیکن د هغوی په تذکره کولو کې یې مؤمنانو ته هم تنبیه وفرمایله، چې فرض یې کړئ ! که د چا په زړه کې د کومې بدې خبرې خطره تېره شوي وي، او په بې پروایۍ سره یې کومه خبره له ژبې هم وتلي وي؛ نو ښایي چې بیا د هغې مهملې خبرې تذکره له سره ونه کړي، او د هغې په تشییع او تنشیر (اشاعت) پسې ونه ګرځي، که خامخا د کوم مؤمن پت او عزت تویوي؛ نو ښه دې وپوهیږي چې د هغه پت او عزت هم محفوظ نه پاتې کیږي، او حق تعالی

هغه ذليل او خواروي، كما في حديث الامام أحمد رحمه الله ، په دې شان سره چې په دنيا کې د قذف حد پرې اجراء کيږي، او نورې رسوايۍ او سزاوې هم وررسيږي، او په آخرت کې د دوزخ سزا دوی ته تياه او مهيئه ده، او الله تعالى ته داسې فتنه اچوونکي ښه معلوم دي، او ښه يې پېژني، اګر که تاسې يې نه پېژنئ، او دغه هم د پاک الله په علم کې شته چې د کوم يوه جرم او ګناه څومره ده؟ او غرض او مقصد يې څه وو؟.

تنبيه: د فاحشې د شيوع حب د حسد او کيني او نورو په شان د قلبيه وو اعمالو څخه دی، او د وسوسو او خواطرو په شان نه دی، او د قصد له مراتبو څخه نه دی، نو ځکه د هغه په مأخوذيت کې نه ښايي چې اختلاف وکړی شي !، فتنبّه له.

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٠﴾

او که نه وی فضل احسان د الله پر تاسې باندې او رحمت مهرباني د ده، او (دا نه وی) چې بېشکه الله ښه نرمي کوونکی ښه رحم کوونکی دی؛ (نو رسوا او معذب شوي به وی په دنيا کې).

تفسير: يعنې دغه غټ دروغ خو داسې ترڅلي او خواره شوي وو، چې نه وو معلوم چې څومره کسان له هغه څنې جارېدل، ليکن الله تعالى محض پخپل فضل، رحمت، شفقت او مهربانۍ له تاسې څنې دتائيبنو توبه قبوله کړه، او پر ځينو يې شرعي حد جاري کړ، او پاک يې وګرځول، او هغه ته يې چې زيات خبيث وو؛ يو ډول (طريقه) مُهلت ورکړ، او په آخرت کې به جزاء وررسيږي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۭ وَمَنْ يَّتَّبِعْ خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ بِالْفَحْشَاۗءِ وَالْمُنْكَرِ ۭ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ مَا زَكٰى مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا ۙ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢١﴾

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) متابعت مه کوئ د ګامونو د شيطان !، او هر چا چې متابعت وکړ د ګامونو د شيطان؛ نو بېشکه دغه شيطان امر کوي (تابع خپل ته) په فحشاء ډېرو بدو قبيحو کارونو، او په منکر نامشروعو بدو خبرو، او که نه وی فضل احسان د الله پر تاسې، او رحمت د ده؛ نو نه به وئ پاک کړي له (معصيت د افک څخه الله) تاسې هيڅوک هيڅکله، وليکن الله پاکوي (په قبول د توبې سره له معاصيو) هر هغه څوک چې اراده وفرمايي (د پاکۍ يې)، او الله ښه اوربدونکی (د اقوالو) ښه عالم دی (په نياتو).

تفسير: يعنې د شيطان له چالونو او پلمو (تدبيرونو) څخه هوښيار اوسئ !، نه ښايي چې د مسلمان کار داسې وي چې شياطين الجن والانس سره قدم په قدم يو ځای لاړ شي، د هغو ملعونانو د ټولنې مقصود خو همدا دی، چې خلقو ته د بې حيايۍ او رسوايۍ په طرف دعوت او بلنه ورکړي، نو تاسې ولې په رښو سترګو عمدًا د هغوی پر خبرو غولېږئ؟، وګورئ چې شيطان لږ څه تحريک او ډکه ورکړي؛ دومره لوی شورماشور او هنګامه پورته کوي، او ډېر سم ساده مسلمانان په اشتباه سره د هغه پر قدمونو روانيږي، حال دا چې شيطان خو د ګردو ګمراه کول غواړي، او يو تن هم نه پرېږدي چې پر سمه لاره لاړ شي، دا خو د الله تعالى فضل او رحمت دی چې دی د خپلو مخلصو بندګانو لاس نيوی کوي، او زيات کسان يې له شيطان له شرونو څخه ژغوري.

وَلَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ اَنْ يُّؤْتُوْٓا اُولِي الْقُرْبٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۡ وَلْيَعْفُوْا وَلْيَصْفَحُوْا ۭ اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٢﴾

او قسم دې نه کوي خاوندان د فضل (په دين کې) له تاسې او (خاوندان) د پراخۍ (او مالدارۍ ستاسې په دنيا کې) په دې چې نفقه او صدقې به نه ورکوي خاوندانو د خپلوی او مسکينانو او

مهاجرينو ته په لاره د الله کې، او ښايي چې عفوه دې وکړي، او ښايي چې تري تېر دې شي، آيا دوست نه لرئ تاسې دا چې مغفرت وکړي الله تاسې ته (په سبب د عفوې او صفح د تاسې)؟ او الله ښه مغفرت کوونکی (د خطياتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: پر صديقې بي بي عائشې رضي الله تعالى عنها باندې په بهتان ټرونکيو کې ځينې مسلمانان هم په ناپوهۍ سره شامل شوي وو، چې له هغوی ځنې يو مسطح رضي الله تعالى عنه وو، چې برسېره په دې چې يو غريب مهاجر وو، د أبو بكر الصديق رضي الله عنه خوريي يا تروړځی هم کېده، او د «افك» د پېښې څخه پخوا صديق أكبر رضي الله تعالى عنه د هغه سره امداد او مالي مرسته کوله، کله چې دغه خبره سره فيصله شوه، او د صديقې بي بي عائشې رضي الله تعالى عنها برائت د الله تعالى له طرفه نازل شو؛ نو أبو بكر الصديق رضي الله عنه قسم وکړ چې وروسته له دې نه به مسطح رضي الله عنه سره هيڅ امداد او کومک ونه کړم، ممکن دی چې ځينو نورو اصحابو ته به هم داسې پېښې ورپېښې شوي وي، نو په دغه تقريب دا آيت نازل شو، يعنې له تاسې ځينې هغو کسانو ته چې الله تعالى ديني کرامت او مشرتوب يا دنيايي وسعت اومالداري ورکړې ده، دوی ته نه ښايي چې داسې قسمونه وخوري !، او ښايي چې د دوی همّت ډېر لوی او اخلاق يې لوړ او عالي وي، نو مېړانه (بهادري) او ځلميتوب په دې کې دی چې د بدۍ بدل په نېکۍ سره ورکړ شي.

په احاديثو کې دي، کله چې أبو بكر الصديق رضي الله عنه دغه آيت واورېد: ﴿أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ﴾ الآية - «آيا دغه مو نه خوښيږي چې الله تعالى مو وبښي»؛ نو فوراً يې وويل: «بلى ! يا ربنا إننا نُحبُّ»، «بېشكه اى ځمونږ پروردګاره ! مونږ هرومرو (خامخا) ستا بښنه خوښوو، او غواړو يې»، دا يې وفرمايل، او د مسطح رضي الله عنه هغه پخوانی کلنګ او امداد يې بېرته جاري کړ، بلکه په ځينو روایاتو کې راغلي دي، چې د پخوا په نسبت يې دوچند کړ، رضي الله تعالى عنه وأرضاه.

إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٢٣﴾

بېشكه هغه كسان چې وُولي دوی (په نسبت د زنا سره) ښځې پاکې عفيفې ناخبرې (له دغو بدو)، ايمان راوړونکي (په الله او رسول)؛ لعنت کړی شوی دی په دوی باندې په دنيا کې او په آخرت کې، او شته دوی ته عذاب ډېر لوی.

تفسير: په صحيحينو کې حديث دی: «اجتنبوا السبع الموبقات ! الشرك بالله، والسحر، وقتل النفس التي حرم الله إلا بالحق، وأكل الربا، وأكل مال اليتيم، والتولّي يوم الزّحف، وقذف المحصنات الغافلات المؤمنات» له دې نه ظاهريږي چې د محصناتو قذف مطلقًا له مهلکاتو څخه دی، بيا په هغه کې ازواج مطهّرات بالخصوص د أم المؤمنين بي بي عائشې صديقې رضي الله تعالى عنها قذف خو ډېره لويه ګناه ده، علماوو تصريح فرمايلې ده، چې وروسته د دغو آيتونو له نزوله هر څوک چې بي بي عائشې رضي الله تعالى عنها يا له ازواج المطهّرات څخه يو تن متّهم کړي؛ هغه کافر او د قرآن مکذّب، او د اسلام له دائرې څخه خارج دی، د «طبراني» په يوه حديث کې راغلي دي: «قذف المحصنة يهدم عمل مائة سنة»، «پر محصنې باندې تهمت لګول د سلو کلونو عمل ورانوي»، (العياذ بالله).

يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢٤﴾

په هغه ورځ کې چې شاهدي به ورکړي پر دوی باندې ژبې د دوی، او لاسونه د دوی، او پښې د دوی پر هغو (افعالو او اقوالو) چې وو دوی چې کول به يې په دنيا کې.

تفسير: يعنې مجرم په خپله خوله او ژبه سره د هغو ويل او اظهار نه غواړي، مګر د ده ژبه، لاسونه، پښې به په «اذن الله» په وينا راځي، او له هغو څخه هر عضوه به هر هغه عمل څرګندوي چې د هغو په وسيله شوی وي.

لطيفه: قاذف پخپله په ژبه تهمت لګولی وو، او د څلورو تنو شاهدانو مطالبه له هغه څخه شوې وه، چې هغه يې پوره نشوه کړی، بالمقابل د هغه دلته د پنځو شيانو ذکر وشو، ژبه چې د قذف اصلي آله ده، او څلور نور لاسونه او پښې چې د هغه پر شرارت باندې شاهدي لولي.

يَوْمَئِذٍ يُوَفِّيهِمُ اللَّهُ دِينَهُمُ الْحَقَّ وَيَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِينُ ﴿٢٥﴾

په دغه ورځ کې به پوره ورکړي دوی ته الله جزاء د دوی هغه چې حقه لائقه وي، او پوه به شي چې بېشکه الله همدی دی حق ثابت (په ذات او صفات خپل)، ښکاره ظاهر (په الوهيت او ربوبيت خپل).

تفسير: هغه ذات چې د يوې ذرې اعمال حساب کتاب په ښکاره او واضح ډول سره هر سړي ته په صاف صورت سره ښکاره کوي، او د هغه په دربار کې هيڅ ظلم او تعدّي نه کيږي، دغه مضمون به د قيامت په ورځ ګردو ته مکشوف او مشهوديږي.

الْخَبِيثَاتُ لِلْخَبِيثِينَ وَالْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَاتِ ۚ وَالطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِينَ وَالطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَاتِ ۚ أُولَٰئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَ ۖ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٢٦﴾

ناپاکې (ښځې او خبرې) لپاره د ناپاکو دي، او ناپاکه (خلق) لپاره د ناپاکو (ښځو او خبرو) دي، او پاکې (ښځې او خبرې) د پاکو (خلقو) دي، او پاک (خلق) لپاره د پاکو (ښځو او خبرو) دي، دغه (پاکان چې ځينې له هغو اهل البيت دي؛) پاک (بې تعلقه ښزاره) دي له هغو خبرو چې وايي يې (دروغجنان)، شته دوی ته مغفرت ښښنه او رزق روزي ښه (په جنّت کې).

تفسير: يعنې بدکارې او چټې (بېکاره) ښځې د بدکارو او چټلو (خرابو) سړيو وړ او لايقې دي، همداسې يو بدکار او ګنده سړی د همدې خبرې سره وړ او لايق دی، چې د هغه تعلّق د هم هغه په شان چټلې (خرابې) او بدکارې ښځې سره وي، پاک او ستره او مطهر انسانان له ناپاکانو سره هيڅ تعلّق او مطلب نه لري، ابن عبّاس رضي الله تعالى عنهما فرمايلي دي چې: «د نبي کريم صلى الله عليه وسلم ښځه له سره بدکاره (زانيه) نه وي»، يعنې الله تعالى د هغه د ناموس حفاظت هم فرمايي، نقله فى (موضح القرآن).

تنبيه: د آيت دغه مطلب خو د شيخ الهند د ترجمې سره سم وشو، مګر د اسلافو د ځينو مفسرينو څخه دغه منقول دي، چې د ﴿الْخَبِيثَاتُ﴾ او د ﴿الطَّيِّبَاتُ﴾ څخه دلته ښځې نه دي مرادې، بلکه اقوال او کلمات مراد دي، يعنې خرابې خبرې خرابو خلقو سره لايقې او مناسبې دي، او پاکې او صافې خبرې پاکو او صافو سړيو سره لازمې او مناسبې دي، متقي، پاک او صاف نارينه او ښځې له داسې ګنده او مردارو تهمتونو څخه پاکې وي، لکه چې وړاندې له ﴿أُولَٰئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَ﴾ څخه ظاهريږي، يا دې داسې وويلی شي چې: خرابې خبرې د خرابو له خولو څخ ووځي، هغه کسان چې د يوه پاک، متقي او مطهر انسان په نسبت کومه مرداره او خرابه خبره وکړي؛ نو وپوهېږه چې هغه پخپله خبيث او مردار دی، يعنې طيّب، طاهر او پاک سړی له داسې خبيثو او مردارو او چټلو (خرابو) خبرو څخه بيخي پاک او مُبرّأ دی، او هسې خرابې ويناوې د خبثاوو، پليتو، چټلو او ګنده کسانو کار دی، ﴿لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾ شته دوی ته مغفرت او رزق روزي ښه په جنت کې يعنې هغوی ددوی په بدو ويلو سره نه بديږی بلکه هر کله چې دوی په هغه صبر وکړي نو دغه ځيز د هغوی د خطاوؤ او خويدلو کفاره کيږی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ حَتَّىٰ تَسۡتَأۡنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَهۡلِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ٢٧

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) مه ننوځئ تاسې (هغو) کورونو ته چې غیر وي له کورونو د تاسې، تر هغه پورې چې (اجازه وغواړئ او) سره وغږېږئ (له بهره او اذن واخلئ) او سلام واچوئ پر اهل د دوی، دغه (اخبار او استیذان) د تاسې خیر بهتر ډېر غوره دی تاسې ته (له ننوتلو د بې اجازې څخه)، ښایي چې پند واخلئ تاسې (په دې سره).

تفسیر: یعنې ماسوا د خپل خصوصي هستوګنې له کوره د بل چا د هستوګنې په کور کې همداسې په خپل سر بې خبره مه ننوځئ !، ولې تاسې نه یئ خبر چې هغه ستاسې د ننوتلو په وخت کې په څه حال کې دی؟ او څه احوال لري؟، آیا دی په دغه حال کې د بل چا په ورتګ خوښېږي که خفه کیږي؟ لهذا پخوا د ننوتلو څخه ښایي ور نارې کړئ، او ځان ته اجازت حاصل کړئ، او له ګردو نارو څخه بهتر «سلام» اچول دي.

په حدیث کې راغلي دي چې: درې ځلې دې سلام واچوي، او د ننوتلو اجازه دې وغواړي، که له درې ځلې سلام اچولو سره هم اجازه ور نه کړه شي؛ نو بېرته دې وګرځي.

في الحقیقت دغه داسې ډک له حکمته تعلیم دی، که د هغه په تعمیل کې مواظبت وکړ شي؛ نو دغه د مېلمه او کوربه دواړو په حق کې ښه او بهتر دی.

مګر افسوس ! نن مسلمانان په دغو مفیدو هدایاتو پسې چندان نه ګرځي، ولې نور ملل او اقوام هم دغه اصول او آداب له مونږ څخه اخیستې، هغه ته یې ډېره ترقي او توسعه ورکړې ده.

فَإِن لَّمۡ تَجِدُواْ فِيهَآ أَحَدٗا فَلَا تَدۡخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤۡذَنَ لَكُمۡۖ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ٱرۡجِعُواْ فَٱرۡجِعُواْ هُوَ أَزۡكَىٰ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ٢٨

پس که چېرې ونه مومئ تاسې په دې کورونو کې څوک (چې اذن درکړي)؛ پس مه ننه وځئ په دې کورونو کې تر هغه پورې چې اذن وکړی شي تاسې ته، او که چېرې وویل شي تاسې ته د اجازت غوښتلو (په وخت کې) چې بېرته وګرځئ؛ پس بېرته وګرځئ تاسې !(او د ننوتلو سعي مه کوئ)، چې دغه بېرته ګرځېدل ډېر غوره (او پاک) دي تاسې ته، او الله په هغو کارونو چې کوئ یې تاسې ښه عالم دی (او جزا یې درکوي).

تفسیر: یعنې کله چې دغه درمعلوم شي، چې په هغه کور کې هیڅوک نشته، خو بیا هم د بل چا په کور کې بې د هغه د مالک او مختار له اجازې مه ننوځئ !، ځکه چې د بل په ملکیت کې بې له اجازې بل هیڅوک د تصرّف حق نه لري، تاسې ته نه دي معلوم چې د بې اجازې ننوتلو څخه به څومره جګړې پېښېږي؟ هو ! که صراحتًا یا دلالتًا اجازت درکړ شي؛ نو بیا هیڅ مضایقه نشته، او که چېرې وویل شي تاسې ته داجازت غوښتلو په وخت کې چې بېرته وګرځئ؛ پس بېرته وګرځئ تاسې، او د ننوتلو سعي مه کوئ !، یعنې د داسې ویلو څخه مه خفه کیږئ !، ځکه چې ډېر اوقات انساني طبیعت دې ته نه وي مائل چې له چا سره وګوري، یا به د بل چا له ملاقاته په دغه وخت کې حرج ورپېښېږي، په داسې یوه خبره او کار مشغول وي چې په دغه نه خوښېږي، چې بل څوک پرې مطّلع شي، نو تاسې ته څه ضرورت در پېښ دی، چې خامخا به پر هغه بار اچوئ؟ حال دا چې په دغه شان تکلیف او زحمت اړولو سره عمومًا د دوستۍ او خپلوۍ تعلّقات ورانیږي.

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ فِيهَا مَتَاعٌ لَكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ ﴿٢٩﴾

نشته پر تاسې باندې هيڅ ګناه په دې کې چې ننوځئ (بې له اجازت غوښتلو) هغو کورونو ته چې نه دي د چا د اوسېدنې، په هغه ځای کې متاع منفعت د تاسې وي، او الله ته ښه معلوم دي هغه چې ښکاره کوئ يې تاسې، او هغه چې پټوئ تاسې.

تفسير: يعنې په عمارتونو کې چې کوم خاص او معلوم داره سړی هستوګنه نه لري، او نه د هغه په ننوتلو او راوتلو کې څه ممانعت او قيود وي، مثلاً مسجد، سرای او مثل ذلک، که هلته مو کوم شی وي، يا په هغه ځای کې د څه موعد لپاره اوسېدل غواړئ؛ نو البته هلته پخپل سر تللی او ننوتلی شئ، او دلته هيڅ د استيذان ضرورت نشته.

قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴿٣٠﴾

ووايه (ای محمده !) مؤمنانو ته چې پټې کړي دوی سترګې خپلې (له نامحرَمو څخه) او ښه ټينګ دې وساتي دوی فرجونه سترونه خپل (د محرّماتو په مقابل کې)، دغه (اغماض او حفظ) ډېر پاکيزه (او ګټور) دی دوی ته، بېشکه چې الله ښه خبردار دی په هغو کارونو چې کوي يې (دوی)، نو ښايي چې ترې په وېره اوسي، پر هر حرکت او په سکون خپل).

تفسير: بده کتنه د زنا اول قدم دی، له دې نه د لويو لويو فواحشو دروازې پرانستلی کيږي، قرآن عظيم عمومًا د بدکاری او بې حيايی د انسداد لپاره ډومبی د همدغه سوري د بندولو توصيه کوي، يعنې مسلمان نارينه او ښځې ته يې حکم ورکړی دی، چې د بدو کتلو څخه ځان ساتي !، او خپل شهوات پخپل واک (اختيار) او اداره کې ولري، که يو ځلې بې اراده او ناڅاپه د کوم نارينه نظر پر کومې ښځې ولوېږد؛ نو بيا دې بالاراده او قصدًا د هغه پر لوري خپلې سترګې نه اړوي !، ځکه چې دغه دويم ځلي ليدل به د ده په واک (اختيار) کې وي، او په هغه کې به معذور نه ګڼل کيږي.

که انسان ځان په دې سره عادت کړي، چې خپلو پښو ته وګوري، او په خپل اختيار او اراده سره د ناجائزو امورو په طرف ونه ګوري؛ نو ډېر ژر د ده د نفس تزکيه کېدی شي، کله چې اول ځلې ناڅاپه کوم اتفاقي نظر لويږي؛ د شهوت او نفساني غوښتنې له سببه نه وي، نو ځکه حديث هغه معاف کړی دی، ښايي چې دلته په ﴿مِنْ أَبْصَارِهِمْ﴾ کې هم «من» تبعيضيه اخيستی همدغه طرف ته يې اشاره فرمايلي وي.

﴿إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ﴾ الآية ـ يعنې د انسانانو د سترګو غلا، او د زړونو پټې خبرې، او مخفيه نيات، او احوال ټول الله تعالى ته معلوم دي، لهذا انسان ته ښايي چې تل دغه علاّم الغُيوب حاضر او ناظر وګڼي، او له بدو افعالو، بدو خيالاتو، بدو کتلو او له هر قسمه بدو چارو څخه ځان وساتي، که نه هغه به يې سم له خپله علمه سره په سزا ورسوي.

وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَىٰ عَوْرَاتِ النِّسَاءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣١﴾

او ووايه (ای محمده) ايمانداروښځو ته چې پټې دې کړي له (نامحرمو څخه) سترګې خپلې، او ښه ټينګ دې وساتي فرجونه سترونه خپل (د محرّماتو په مقابل کې)، او نه دې ښکاره کوي

زینت ښایست (او ځای د ښایست) خپل مګر هغه چې ښکاریږي له دغه (زینت څخه په وخت د کسب او کار کې)، او ښایي چې وا دچوي ټکري پورې خپل پر ګربوانونو خپلو (چې ټټر یې ښکاره نشي)، او نه دې ښکاره کوي زینت ښایست (او ځای د ښایست) خپل (هیچا ته) مګر لپاره دمېړونو (خاوندانو) خپلو (چې دغه د هغو دي)، یا پلرونو (او نیکونو) خپلو، یا پلرونو د مېړونو خپلو ته، یا ځامنو (او لمسیو) خپلو ته، یا ځامنو د مېړونو خپلو ته، یا وروړو خپلو ته، یا ځامنو د وروړو خپلو ته، یا ځامنو د خویندو خپلو ته، یا ښځو خپلو ته، یا هغه چا ته چې مالک شوي دي (د هغه) ښې لاسونه د دوی، یا هغو تابعانو ته چې نه وي خاوندان د حاجت ښځو ته له سړیو نه، یا هلکانو هغو ته چې نه وي خبر (دوی) پر اسرارو د ښځو، او نه دې وهي (دا ښځې) پښې خپلې لپاره د دې چې معلوم کړ شي هغه څیز چې پټوي یې دوی له زینت ښایست (ګانې) خپلې، او راجع شئ توبه وباسئ تاسې الله ته ټول ای مؤمنانو !، لپاره د دې چې تاسې ښېګڼه او خلاصی وموميئ (په دارینو کې).

تفسیر: ښایست او سینګار عُرفًا خارجي او کسبي آرایش ته وایي، چې هغه له لباس یا زېور او نورو شیانو څخه حاصلیږي، د دې احقر په نزد دلته د زینت ترجمه د سینګار په ځای که په زېبائش سره وکړه شي؛ نو زیات جامع او مناسب واقع کیږي، ځکه چې د زېبائش (ښایست) لفظ هر قسم خَلقي او کسبي زینت ته شامل دی، اعمّ له دې نه چې هغه د جسم خلقي پیدایښت سره متعلق وي، یا له پوښاک او نورو خارجي ډول و ډیل څخه حاصل شوی وي، د مطلب خلاصه داسې وه: ښځو ته د خپل هیڅ قسم خلقي یا کسبي ښایست اظهار پر ته له خپلو هغو محارمو څخه چې یې ذکر وروسته راځي؛ د بل هیچا په مخ کې جائز نه دي، هو ! د هومره اندازې ښایست ظهور چې ضروري وي، او د هغه ستر او اخفاء په سبب د عدم قدرت یا ضرورت نشي ممکن کېدی؛ نو مجبورًا یا ضرورتًا د هغه په اظهار کې دومره مضایقه نشته، (مشروط په دې چې د فتنې خوف نه وي).

لیکن واضح دې وي چې په ﴿إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ سره صرف ښځو ته د عند الضرورت د هغو اعضاوو په اظهار کې اجازه ورکړی شوې ده، نامحرمو سړیو ته له سره اجازه نشته، چې دوی دې خامخا دغو ښځو ته وګوري، یا له هغوی سره سترګې په سترګو شي، یا د دوی د اعضاوو سیل وکړي، ښایي د دغه اجازې څخه پخوا د همدې لامله الله تعالی مؤمنانو ته د غض البصر او د سترګو د پټولو حکم اورولی وي، معلوم شو چې د یوه خوا دکوم عضوې د اظهار اجازه دغه نه لازموي، چې بل طرف ته د هغه کتل هم جایز وي، نارینه چې په ستر له سره مأمور نه دي، مګر د پاس آیتونو په اساس د ښځو له نظره مستور دي، یعنې ښځې له دېنه ممنوع دي چې نارینه وو ته وګوري، ښایي چې په یاد یې ولري چې په دغه آیت کې محض د ستر د مسئلې بیان شوی دی، یعنې له دې نه قطع نظر چې ښځه په کور کې وي که د باندې؟ د ښځې د بدن کومه برخه د چا په مخ کې او په کومو حالاتو کې ښکاره کول جائز دي؟، پاتې شوه د «حجاب» مسئله؛ د هغې څه تفصیل ان شاء الله د «أحزاب» په سورت کې راځي.

مونږ چې د فتنې د خوف د نفي کوم شرط لګولی دی؛ هغه د نورو دلائلو او شرعیه وو قواعدو څخه مأخوذ دی، چې په اول تأمل او مراجعت له نصوصو څخه موندلی کیږي، د بدن په خلقي ښایست کې له ګردو څخه ډېر ښکاره شی د تي اوچتوالی دی، د هغه د مزید تستّر لپاره یې په خاص ډول سره تأکید وفرمایه، او د جاهلیت د رسم د امحاء طریقه یې هم راوښوده، په جاهلیت کې به ښځو ټکري (څادرونه) په خپل سر اچول، او د هغه دواړه څنډې (غاړې) به یې ببرته پخپلې شا غورځولې، او په دې ډوله د تي هیئت به څرګند پاتې کېده، دغه ګواکې د ښایست یوه مظاهره وه، لوی قرآن ده راوښوده چې ښایي ټکری په سر واچول شي، او د هغه څنډې دې تر زنې لاندې تېرې شي، څو د ښځو غاړه او تی او غوږونه پرې په ښه ډول پټ شي.

﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ﴾ الآية ـ «اونه دې ښکاره کوي ښځې زينت خپل هيڅا ته مګر لپاره د مېړونو (خاوندانو) خپلو چې دغه د هغوی دي، يا پلرونو او نيکونو خپلو، يا پلرونو د مېړونو (خاوندانو) خپلو ته، يا ځامنو او لمسيو خپلو ته، د تره او ماما حکم هم داسې دی، په دغو محارمو کې هم د مراتبو فرق شته، مثلاً هغه زينت او ښايست چې دا يې د خپل مېړه په مخ کې ظاهرولی شي؛ هغه د نورو محرمو په مخ کې نشي څرګندولی، د زينت څرګندول څو درجې لري، هومره د تستّر اهتمام چې له پردیو څخه کاوه شي؛ له محارمو څخه نه کيږي، او داسې مطلب نه دی چې هر يو عضو دې د دوی په مخ کې بربنډ او ښکاره کولی شي.

﴿أَوْ نِسَآئِهِنَّ﴾ ـ «او نه دې ښکاره کوي ښځې زينت خپل هيڅا ته مګر ښځو خپلو ته»، يعنې هغې ښځې ته چې د دې سره ناسته ولاړه لري، په دې شرط سره چې ښه اخلاق ولري، او د بد اخلاقو ښځو په مخ کې نه، او د ډېرو اسلافو په نزد له دې نه مسلمانې اصيلې ښځې مرادې دي، ځکه چې کافره ښځه د اجنبي سړي حکم لري.

﴿أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ﴾ ـ يعنې ستاسې وينځې وي، او د ځينو اسلافو په نزد مملوک مريي هم په دې کې داخل دی، او د قرآن ظاهر هم د هغه تأييد کوي، ليکن د جمهورو ائمه وو او اسلافو مذهب داسې نه دی.

﴿أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ﴾ ـ «اونه دې ښکاره کوي ښځې زينت خپل هيڅا ته مګر هغو تابعينو ته چې نه وي خاوندان د حاجت ښځو ته له سړيو»، يعنې نوکر او هغه خدمتګار چې له خپله کار سره کار لري، او له سره دی وزګار نه وي، چې دې خوا او هغې خوا ته وګوري، او پخپل جاړو جوړو او ډوډۍ پخولو او نورو کورنيو چارو کې بوخت او لګيا وي، شوخ، شغب، سپين سترګی او ارمونی نه وي، يا داسې فاتر العقل، بې سد، پاګل وي چې حواس يې په خپل ځای نه وي پاتې، او محض په خوړلو او څښلو کې له کورنۍ سره شريک او مل وي.

﴿وَلَا يَضْرِبْنَ﴾ ـ او نه دې وهي دا ښځې پښې خپلې لپاره د دې چې معلوم کړ شي هغه څيز چې پټوي يې دوی له زينت خپل، يعنې ښايي چې د دوی هيئت او وضعيت، ناسته ولاړه داسې نه وي چې د ګانړو (کالو) او زېوراتو غږ د پردیو توجه او ميلان ځان ته ورکش کړي، او ډېر ځلې داسې غږ او حرکات او سکنات د مخ او نورو د ليدلو څخه زيات د نفساني جذباتو داعي او محرک واقع کېدی شي.

وَأَنْكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنْكُمْ

نکاح وترئ د هغه بې مېړونو (خاوندانو) ښځې او بې ښځو سړي له تاسې.

تفسير: په دغه آيت کې دا حکم ورکوي چې د هغو کسانو نکاح چې تر اوسه نه ده ترلې شوې، يا وروسته د نکاح ترلو څخه بېرته کونډه شوی وي؛ نو په مناسبه موقع کې دې بيا د هغوی نکاح سره وترله شي !، په حديث کې نبي عليه السلام فرمايلي دي: «ای علي ! په دريو کارونو کې ځنډ (ايسارتيا) مه کوه !، د فرض لمانځه وخت چې راشي، جنازه چې حاضره شي، او کونډه ښځه چې کله يې سيال پيدا شي».

هغه اشخاص او اقوام چې عمدًا د خپلو کونډو او رنډو په نکاح کې تکاسل، تساهل او تعطيل کوي، يا د داسې خبرو د اورېدلو څخه بد وړي؛ ښه دې وپوهيږي چې هغوی پخپل دغه وضعيت کې ګناهګاران دي، او ښايي چې ژر تر ژره دې توبه وباسي، او د هغوی په نکاح کې دې تلوار او مسارعت وکړي.

وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ

او صالحان نېکان له مريو خپلو او له وينځو خپلو.

تفسير: يعني كه مريي او وينځي د دغې خبرې وړ او لايق وګڼئ، چې د زوجيت حقوق اداء کولی شي، او د نکاح کولو لامله نه مغروريږي، او ستاسې له کارا وخدمت څخه لاس نه وباسي؛ نو د دوی نکاح هم وترئ !.

إِن يَكُونُوا۟ فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٢﴾

که چېرې وي (دغه مذکورين) فقيران نادارانو؛ نو غنيان به کړي دوی الله له فضله خپله، او الله کشائش والا ښه عالم دی.

تفسير: ځينې خلق د دې لامله متردّد وي، او وړاندې وروسته کوي؛ چې وروسته له نکاح به د ښځې او د ورړو بار څوک په خپلو اوږو اخلي؟ دلته الله تعالی دوی پوهولي دي، چې د هسې موهومو خطراتو لامله تاسې د نکاح څخه مه په څنګ کېږئ !، ستاسې او ستاسې د ښځو د ووړکيو روزي د الله تعالی په قدرت کې ده، تاسو ته دغه خبره نه ده معلومه، چې د هغوی له قسمته الله تعالی ستاسې په رزق او روزي کې څه ارتوالی او کشائش پيدا کړي، نه مجرّد کونډه (لونډه) پاتې کېدل د غناء موجب دی، او نه له نکاح ترلو سره فقر او افلاس مستلزم دی، دغه ګرد خبرې د الله تعالی په اراده او مشيت پورې ترلې دي، لکه چې د «التوبه» په (۴) رکوع کې يې داسې فرمايلي دي: ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ إِنْ شَاءَ﴾.

وَلْيَسْتَعْفِفِ ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ

او ښايي چې ځان دې وساتي هغه کسان چې نه مومي دوی (سامان اسباب د) نکاح تر هغه پورې چې غنيان کړي دوی الله له فضله خپله.

تفسير: يعني هغه چې اوس دومره مقدور هم نه لري، چې له کومې ښځې سره خپله نکاح وترلی شي؛ نو تر هغه پورې چې الله تعالی ده ته مقدور ورکړي، ښايي چې د خپل نفس اداره ښه وکړي، او تر انضباط لاندې يې راولي، او زيار (کوښښ) وکړي چې عفيف پاتې شي، دغه خبره هيڅ بعيده نه ده، چې د هم هغه عفّت او ضبط النّفس په برکت دی الله تعالی غني وګرځوي، او د نکاح ډېر ښه مواقع ورمهيّأ کړي.

وَٱلَّذِينَ يَبْتَغُونَ ٱلْكِتَٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا ۖ وَءَاتُوهُم مِّن مَّالِ ٱللَّهِ ٱلَّذِىٓ ءَاتَىٰكُمْ ۚ وَلَا تُكْرِهُوا۟ فَتَيَٰتِكُمْ عَلَى ٱلْبِغَآءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُوا۟ عَرَضَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَمَن يُكْرِههُّنَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ مِنۢ بَعْدِ إِكْرَٰهِهِنَّ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٣﴾

او هغه کسان چې غواړي مکاتب والی له هغو (وينځو مريو) چې مالکان شوي دي د هغو ښې لاسونه ستاسې؛ نو مکاتبان کړئ دوی که چېرې پېژانده تاسې په دوی کې خير، او ورکوئ دوی ته له ځينو مالونو د الله هغه چې درکړي يې دي تاسې ته، او مه مجبوروئ تاسې وينځې خپلې په زنا (او بدو کارونو) که چېرې اراده لري دوی د ځان پاک ساتلو، لپاره د دې چې طلب کوئ تاسې (په دغه اکراه سره) مال د ژوندون لږ خسيس (چې هغه باړه د زنا او وړوکی دی)، او هر هغه چې زور يې وکړ په دوی؛ پس بېشکه الله وروسته له زور د مالکانو پر دوی ډېر بښونکی ښه رحم کوونکی دی.

تفسير: يعني که د چا مريي او وينځې ووايي، يا د زيات توثيق لپاره خپله دغه وينا وليکي، چې «زه به په دومره مدّت کې دومره مال درته وګټم، او در به يې کړم، ځو ته مې آزاد او خپلواک کړې»؛ نو مالک ته لازم دي چې دغه ومني،

او داسې يو تعهّد ليک ورولیکي، دغسې معاملې ته مکاتبه وايي، او دغه د مريو د آزادولو يو ځان ته صورت دی، ليکن مالکانو ته ښايي چې دغه خبره هلته قبوله کړي چې دی په واقعي ډول سره وپوهيږي چې آزادي د دغه مريي يا وينځې لپاره ښه ده، او وروسته د رقيت د قيد د وتلو څخه غلا، يا زنا يا د نورو بدو افعالو نه مرتکب کيږي، او خوشې چې او چپوله (فضول) هر چېرې نه ګرځي، که دغسې ډاډينه او اطمينان ورته پيدا شي؛ نو بېشکه ښايي چې ده ته د آزادۍ موقع ورکړه شي !، څو دی آزاد شي، او د خپلې فلاح او بهبودۍ لپاره ښه ترقي او پرمختګ وکړی شي، که چېرې خپله نکاح ترې؛ نو پخپل واک (اختيار) دې وترې، او د رِقّيت لامله دې ميدان پرې تنګ نه وي.

﴿وَاٰتُوْهُمْ مِّنْ مَّالِ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اٰتٰىكُمْ﴾ ـ «او ورکوئ دوی ته له ځينو مالونو د الله هغه چې درکړي يې دي تاسې ته»، دغه يې دولتمنو اغنياوو مسلمانانو ته فرمايلي دي، چې د داسې مکاتبانو مريو يا وينځو سره مالي امداد وکړئ، چې د زکات له وجوهو څخه وي که د نورو عامو صدقاتو او خيراتونو او نورو څخه وي، څو دوی ژر تر ژره د خپلو آزادیو او خپلواکيو مالکان شي، او که مالک د کتاب د بدل کومه برخه ورمعافه کړي؛ نو دغه به ډېر لوی امداد وي.

تنبيه: د زکات په مصارفو کې يو مصرف چې د ﴿وَفِي الرِّقَابِ﴾ په نامه ايښی شوی دی، هغه د همدغو مريانو او د وينځو د آزادولو پنګه ده، د راشدو خلفاوو په زمانه کې له داسې مريانو سره له بيت المال څخه امداد او مرستې کېدلې.

﴿وَلَا تُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ﴾ الآية ـ په جاهليت کې به ځينو خلقو پر خپلو وينځو د زنا او بدکارۍ کسب کاوه، له عبد الله بن أبيّ رئيس المنافقين سره څو داسې وينځې وې، چې پر هغو به يې د همدغې زنا او بدکارۍ کسب کاوه، او په دغه وسيله به يې روپۍ ګټلې، چې له دوی څخه ځينې ځينې وينځې مسلمانانې شولې، او د دغه شنيع فعل د کولو څخه يې انکار وکړ، نو ځکه هغه ملعون د دوی په وهلو او ټکولو لاس پورې کړ، دغه آيت په همدغه مورد کې نازل شو، او د دغه شان نزول د رعايت د مزيد تقبيح لپاره يې د ﴿اِنْ اَرَدْنَ تَحَصُّنًا﴾ او د ﴿لِّتَبْتَغُوْا عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾ قيود زيات کړل، که نه پر وينځو باندې د بدکارۍ اجراء په هر حال حرامه ده، او دغسې ګټه (فائده) چې په دغه وسيله په لاس راځي، په هر اسم او رسم چې وي؛ بيخي حرامه او ناپاکه ده، اعمّ له دې چې دغه بدکاري دوی پخپله رضا او رغبت سره وکړي، يا محض د دغې دنيوي حقيرې فائدې لپاره په جبر او اکراه سره پر دوی اجراء کيږي، نو په دغه وروستني صورت کې د هغه ګناه او وبال شديد او انتهايي وقاحت لري، او د لويې بې شرمۍ دليل دی.

يعنې زنا داسې بد عمل دی، چې د جبر او اکراه څخه وروسته هم بد او خراب وي، ليکن الله تعالى محض پخپل فضل او رحمت سره د مکرهه بېچارګۍ او ناتوانۍ ته کتلې، عفوي کوي يې، او په هر صورت پر مکرِه (په زور کوونکي) باندې به سخت عذا ب وي، او پر مکرهه (چې پرې زور شوی وي)؛ رحم به وکړ شي.

﴿وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ وَّمَثَلًا مِّنَ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝٣٤﴾

او خامخا په تحقيق نازل کړی دی مونږ تاسو ته آيتونه ښکاره کوونکي (د حلالو او د حرامو د حدودو او د احکامو)، او مثل عجيب د هغو کسانو چې تېر شوي دي پخوا له تاسې، او نازل کړی دی مونږ موعظه پند لپاره د متّقيانو پرهېزګارانو.

تفسير: يعنې په قرآن کې ګرد نصائح، احکام او د تېرو اقوامو عبرتناکه واقعات بيان شوي دي، څو د پاک الله څخه ويريدونکي انسانان هغه واوري، او ترې پند، نصيحت او عبرت واخلي، او خپل انجام او عاقبت ته فکر وکړي، يا مثلا له ﴿مِّنَ الَّذِيْنَ خَلَوْا﴾ څخه دغه مراد دی، چې پر پخوانيو امّتونو هم داسې حدود او احکام جاري کړی شوي وو، چې په دغه سورت کې مذکور دي، او ځينې پېښې هم د همدغه (افک) د پېښې په شان وروړاندې شوې دي، چې په دغه سورت کې بيان کړی شوي دي، پس هم هغه شان چې الله تعالى د مريمې صديقې رضي الله تعالى عنها او يوسف

صديق عليه السلام د دښمنانو بهتان باطل او د دوی برائت يې ظاهر کړی؛ د بي بي عائشې صدّيقې بنت الصديق رضي الله تعالى عنهما برائت او لويي يې هم ښکاره کړه، چې تر قيام د قيامت پورې د صادقينو او صالحينو په زړونو کې يې نقش في الحجر کړ، او د دروغجنانو دښمنانو مخونه يې تور کړل.

اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ ؕ اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ ؕ اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُّوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَّلَا غَرْبِيَّةٍ ۙ يَّكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ؕ نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ ؕ يَهْدِى اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝

الله (په حسي او معنوي لحاظ) رڼا کوونکی د اسمانونو او ځمکې دی، مثل صفت د نور د ده (داسې دی) لکه (روڼه) طاقچه چې په هغې کې يوه بله ډيوه وي، دغه بله ډيوه په قنديل د (شيشه) کې وي، دغه قنديل (ښيښه په سبب د هغې رڼا چې په کې ده) ګواکې يو ستوری دی روڼ ځلېدونکی، چې بلوه شي (دا يوه چراغ په اول کې) له تېلو د ونې برکتناکې د زيتون، چې نه مشرق طرفته وي او نه مغرب طرف ته، نژدې دي تېل د دې چې رڼا وکړي (له خپله ځانه له ډېرې صفايي) او اګر که نه وي رسېدلی دې ته اور، (دغه) رڼا (د ډيوې) پر رڼا (د صافو تېلو ده)، لاره ښيي الله نور خپل ته هغه چا ته چې اراده وفرمايي، او بيانوي الله مثالونه خلقو ته (او په معقولاتو يې پوهوي د محسوساتو په وسيله)، او الله په هر څيز ښه عالم دی.

تفسير: يعنې د ځمکې او د اسمان رونق او ودانې د الله تعالى له جانبه ده، که الله تعالى مدد ونه کړي؛ نو ګرد به سره ورانيږي، (موضح القرآن). ګردو مخلوقاتو ته د وجود نور او رڼا د الله له طرفه ورکړی شوې ده، په لمر، سپوږمۍ، ستوري، پرښتو، انبياوو او په اولياوو د هدايت هغه انوار او پلوشې چې هر چاته رسيږي، د هم هغه رفيع دربار څخه رسيږي، تمام علويّات او سفليّات د الله تعالى له تکوينيه وو او تنزيليه وو آيتونو څخه منور دي، د حسن او جمال يا د خوبۍ او کمال کومه وړانګه (پلوشه) چې هر چېرې بريښي؛ هغه د همده له برکته منوّره ده، او د هغه د مبارک ذات د جمال او کمال يوه پلوشه ده.

په حديث کې راغلي دي: «إن الله خلق خلقه في ظلمة ثم ألقى عليهم من نوره، فمن أصابه من نوره يومئذ اهتدى، ومن أخطأه ضلّ» (فتح الباری د ۶ ج ۴۳۰ مخ) «يعنې هر هغه چاته چې په هغه وخت کې د الله تعالى له نوره برخه ورورسېده؛ هغه هدايت وموند، او هر هغه چې له هغه څخه بې برخې شو؛ ګمراه پاتې شو».

واضح دې وي هم هغسې چې د الله تعالى نور صفات مثلاً سمع، بصر، او د نورو کوم کيفيت نشي بيامونديدی؛ هم داسې د نور او رڼا صفت هم د ممکناتو په نور نشي قياس کېدی، هسې خو د الله تعالى په نور سره ګردو موجوداتو ښايست موندلی دی، مهتدينو مؤمنينو ته د الله تعالى له نور څخه د هدايت او عرفان هم هغه خصوصي برخه وررسيږي.

د هغه مثال خلاصه داسې شوه، چې د مؤمن د زړه ښيښه نهايته صافه او پاکه وي، او د الله تعالى په توفيق په هغې کې د حق د قبول داسې يو زبردست استعداد موندل کيږي، چې بې له اوره په خپل سر روڼه ښکاري، او د لګېدلو او رڼا خورولو لپاره مستعد او تيار دی، اوس که لږ څه اور او حرارت ورنژدې شي، يعنې د وحي او قرآن تېزه رڼا هغه مَس کړي؛ على الفور د هغه فطري نور مشتعل شي، همدغه يې ﴿نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ﴾ وفرمايل، باقي دغه ګرد (ټول) د الله تعالى په قبضه کې دي، د هر چا په نسبت چې اراده وفرمايي؛ دغه رڼا يې ور په برخه کوي، او همده ته ښه معلوم دي چې دغه رڼا چا ته عنايت وفرمايي؟ او کوم يو ترې محروم کړي؟، د دغو عجيبو او غريبو مثالونو د بيان کولو هم دغه غرض

دی، چې د استعداد خاوندانو ته د بصیرت یوه رڼا حاصله شي، یوائې په خپله الله تعالی ته د تمثیل مناسب موقع او محل په پوره ډول سره معلوم دی، بل چاته له سره دغسې قوّت او قدرت نشته، چې دغسې موزون او جامع مثال وړاندې کړی شي، وړاندې یې فرمایلي دي چې: هغه رڼا له دې نه پیدا کیږي، چې په هغو مساجدو کې چې کامل خلق سبا او بېګا عبادت کوي، هلته دې په ښه شان سره خپل فکر او دقّت صرف کړي.

فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ

په هغو کورونو (مسجدونو) کې چې حکم کړی دی الله چې پورته دې کړل شي (په بناء سره دغه مساجد یا په تعظیم سره).

تفسیر: الله تعالی د هغو کورونو د تعظیم او تطهیر حکم ورکړی دی، یعنې د هغوی دې خبر واخیست شي !، او له هر قسمه ګندګۍ او لغو افعالو او اقوالو څخه دې پاک وساتلی شي، د مساجدو په تعظیم کې دغه هم داخل دي، کله چې هلته داخل شي، د «تحیة المسجد» دوه رکعت نافله دې ولوست شي !.

وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ

او یادوه شي په هغه کې نوم د دغه (الله).

تفسیر: تسبیح، تهلیل، او د قرآن تلاوت او نور ګرد اذکار په دې کې شامل دي.

يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ

تسبیح وایي دغه (لمونځ کوي الله) ته په دغو کورونو کې په سبا او په بېګا.

تفسیر: یعنې په ګردو مناسبو اوقاتو کې الله تعالی یادوي، ځینې مفسّرین وایي چې: له «غدوّ» څخه د سبا لمونځ مراد دی، او په «آصال» باقي څلوره واړه لمونځونه داخل دي، ځکه چې «أصیل» د لمر له زوالې څخه نیولې تر ګهیځ (سحر) پورې مودې ته ویل کیږي.

رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ

(داسې) سړی چې نه غافلوي دوی سوداګري او نه بیع پېرودل له ذکره یاده د الله، او له سم قائمولو اداء کولو د لمانځه، او له ورکولو د زکات.

تفسیر: یعنې کاروبار او معاش او دنیوي ژوندون دوی د الله تعالی له یاده او د الله تعالی د احکامو په ځای راوړلو څخه نه غافلوي، مثلاً که ډېر لوی سوداګر او بیپار وي که معمولي دکاندار وي؛ دغه دواړه د الله په یاد کې تل لګیا وي، او هیڅ یو شی دوی د الله تعالی له ذکره نه غافلوي، د أصحابو کرامو رضوان الله تعالی علیهم أجمعین هم دغه شان وو.

يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ

ویریږي (دوی سره له ذکره او طاعته له عذابه) د هغې ورځې چې اوړي رااوړي، مضطرب به وي په هغې ورځې کې زړونه او سترګې (له ډېرې وېرې).

تفسیر: یعنې په هغه ورځ کې به زړه په هغې خبرې باندې وپوهیږي، چې تر اوسه پورې نه پوهېده، او سترګې به داسې ویروونکي واقعات ووینې، چې له سره یې پخوا له دې نه نه وي لیدلي، په زړونو کې به کله د نجات توقّع پیدا کیږي،

او کله به د هلاک خوف، او سترګې به کله ښې خوا ته ګوري او کله کینې خوا ته، او د دې خبرې په انتظار کې به وي، چې له کوم لوري به نیول کیږو؟ یا د کوم لوري أعمالنامې ځمونږ په لاس کې راکولی کیږي.

لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِ ۗ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَن يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٨﴾

لپاره د دې چې جزا ورکړي دوی ته الله ډېره غوره جزا د هغو عملونو چې کړي دي دوی، او زیات به کړي (الله) دوی ته له فضله احسانه رحمته خپل، او الله رزق روزي ورکوي هر چاته چې اراده وفرمایي (د رزق ورکولو د هغو) بې له حسابه (وافره پرېمانه).

تفسیر: یعنې د هغو ښو کارونو لپاره کوم اجر او صله چې مقرره ده؛ هغه به وررسیږي، د الله تعالی له فضله لا څه زیاته هم ورکوله کیږي، چې دهغه تفصیل او تعیین اوس نشي کېدی.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍ بِقِيعَةٍ يَحْسَبُهُ الظَّمْآنُ مَاءً حَتَّىٰ إِذَا جَاءَهُ لَمْ يَجِدْهُ شَيْئًا وَوَجَدَ اللَّهَ عِندَهُ فَوَفَّاهُ حِسَابَهُ ۗ وَاللَّهُ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٣٩﴾

او هغه کسان چې کافران شوي دي؛ عملونه د دوی په شان د سراب (شګو ګل) دی په هوار ډاګ کې چې ګمان کوي پر هغه باندې تږی د اوبو، تر هغه پورې چې راشي (او ورسیږي هغه شي ته چې د اوبو ګمان یې پرې کړی وو)؛ نو ونه مومي دغه سړی هغه چې ګمان د اوبو پرې کړی شوی وو هیڅ شی، او بیا به مومي الله په نزد (د عمل) خپل، پس پوره به ورکړي (الله) ده ته پوره حساب (جزا د عمل د ده)، او الله ډېر ژر (اخیستونکی) د حساب دی.

تفسیر: روایت دی چې عُتبه بن ربیعه په جاهلیت کې ډېر عبادت او طلب د دین کاوه، بیا چې د اسلام لمر راوخوت دی کافر شو، نو په دغه مناسبت دغه پاس آیت نازل شو، چې مطلب یې دغه دی: او هغه کسان چې کافران دي؛ هغه عملونه د دوی چې په ظاهر کې نېک ښکاري، لکه صله رحمي پالل، یا د مریي آزادول، یا د وږي مړول، یا دغسې نور خیر خیرات کول، نو دغه ګرد عملونه په شان د هغې ښورې دي، چې په هوار میدان کې ښکاریږي، په سخته ګرمۍ په وخت د نیمې ورځې کې، او داسې بریښي چې تږی سړی پرې د اوبو ګمان کوي، او په بیړه (تلوار) مخامخ وردرومي. تر هغه چې ورسیږي هغه ځای ته چې د اوبو ګمان پرې شوی وو؛ نو بیا نه مومي دی هغه ګمان کړی شوی خپل هیڅ شی .. الخ، بلکه د هلاکت کنده لا ورته مخامخ پرته ده او د حساب او کتاب وخت په سر ورته ولاړ او پاک الله دده ګرد عمر حساب او کتاب اخلي، او ددغه اضطراب او حسرت په وخت کې دده ټول حساب یو ځلی الله تعالی تصفیه او خلاصوي.

أَوْ كَظُلُمَاتٍ فِي بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَغْشَاهُ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِ سَحَابٌ ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ۚ إِذَا أَخْرَجَ يَدَهُ لَمْ يَكَدْ يَرَاهَا ۗ وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ اللَّهُ لَهُ نُورًا فَمَا لَهُ مِن نُّورٍ ﴿٤٠﴾

یا (عملونه د دوی) پشان د هغو تاریکیو دي په بحر ژور کې، چې پټ کړی وي (دغه بحر) لره یو موج، د پاسه یې بل موج وي، او د پاسه د دغه (موج) وریځ وي (دغه څلور قسمه) تیاري دي، چې ځینې د دوی د پاسه د ځینو نورو دي، کله چې راوباسي (دغه پرېوتی په دغو تیارو کې) لاس خپل؛ نه وي نژدې (دی) چې وویني دغه (لاس خپل)، او هر هغه چې نه وي ورکړی الله ده ته نور رڼا؛ پس نشته ده ته هیڅ نور رڼا.

تفسير: يعني د سمندر په ژورو کې (١): پخپله د لوی سيند تياره، (٢): د هغه د پاسه د طوفاني هوا او امواجو تپه توره تياره، (٣): بيا د هغه څخه برسېره د سختې ويرووونکې تکې تورې ورېځې تياره، (۴): ورسره د تړمو توره تياره شپه هم فرض کړه شي؛ نو پر دغو تيارو باندې لا پسې تزييد کيږي، په دغو تورو تيارو کې که په درياب کې غورځيدونکی چې أقرب الأعضاء دی پورته کړي، او خپلو سترګو ته يې نژدې راولي؛ نو بيا هم د ډېرو تيارو له سببه به يې هيڅ شی په نظر نه ورځي، چې هغه ته ځمونږ په محاورو کې داسې وايي: «سترګو ته سترګې په کار دي»، پاس د مؤمنانو په ذکر کې يې چې: ﴿يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَنْ يَشَاءُ﴾ فرمايلي وو، دغه جمله د هغې په مقابل کې ده، يعني هر هغه چا ته چې الله تعالى نور او توفيق نه وي ورکړی؛ نو هغه ته بل څوک څه رڼا رسولی شي؟ د هغه استعداد خراب وو، توفيق ور ونه رسېد، او د سيند په ژوره کې ولوېد، او د رڼا ورتلو دروازې يې پر خپل ځان پسې بندې کړې، نو بيا نور او رڼا له کومې لارې ورننوځي.

تنبيه: ربّ العزّت د کفّارو په اعمالو پورې دوه مثالونه وترل، په دې اعتبارونو سره: (١): په اعتبار د تخيير، چې ای مخاطبه ! که دغو اعمالو ته ګورې چې هيڅ فائده او نفع نه لري؛ نو لکه سراب دي.

(٢): که دې ته ګورې چې نور او رڼا د حق او ايمان ورسره مل نه وي؛ نو لکه ظلمات دي.

(٣): که په اعتبار د تقسيم د مکانينو ورته ګورې؛ نو نظر عقبى ته دا لکه سراب داسې دي، او د نظر دنيا ته لکه ظلمات داسې دي.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالطَّيْرُ صَافَّاتٍ

آيا نه وينې ته ای مخاطبه ! بېشکه الله چې دی؛ تسبيح وايي ده ته هر هغه چې په اسمانونو کې دي، (او هر هغه) چې په ځمکه کې دي (سره له اسمانونو او ځمکې) اومرغان هم (تسبيح وايي) په دغه حال کې چې خواره کوونکي وي د وزرو خپلو (په هوا کې).

كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُ وَتَسْبِيحَهُ

هر يو (له دغو مذکورينو چې دی)؛ په تحقيق معلوم دی (الله) ته لمونځ د هغه، او تسبيح د هغه.

تفسير: يعني الله تعالى هر شي ته د هغه د حال سره مناسب د انابت ـ عبوديت ـ اطاعت ـ تسبيح او تهليل الهام فرمايلی دی؛ چې هغه پر دغه پوهېدلی دی، او تل همغه خپله وظيفه بلا ناغه ادا کوي، ليکن د افسوس او تعجّب مقام دی، چې ډېر تش په نامه سره انسانان د غرور او غفلت او د ظلمت او جهالت په دلدل کې داسې خښ شوي دي، چې د حقيقي مالک له يادولو، او د عبوديت د وظيفې په ځای راوړلو څخه بيخي بې برخې پاتې دی.

تنبيه: د مخلوقاتو د تسبيح په نسبت د سورت بني اسرائيل په (۵) رکوع کې څه مضمون پخوا له دې نه ليکلی شوی دی، ښايي چې هغه هلته ولوست شي.

وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ

او الله ته ښه معلوم دي هغه (اعمال هم) چې کوي يې دوی.

تفسير: يعني اګر که د دوی په عبادت او بندګۍ باندې تاسې ونه پوهېږئ، ليکن پاک الله ته دغه ګرد شيان معلوم دي، او الله تعالى ته دغه ښه معلوم دي؛ چې هر څوک څه کوي؟.

وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۖ وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ ﴿٤٢﴾

او خاص الله ته دی ملک سلطنت د اسمانونو او د ځمکې، او (هم خاص) الله ته دي ببرته ورتله د ټولو.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُزْجِي سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُ ثُمَّ يَجْعَلُهُ رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ ۚ

آیا نه وینې ته (ای مخاطبه) چې بېشکه الله روانوي شړي ورېځې (ټوټې ټوټې هر طرف ته چې اراده وفرمایي)، بیا یو ځای والي فرمایي په منځ د دغو (ټوټو د ورېځو) کې، بیا یې وګرځوي لاندې باندې قت په قت، پس وینې به ته ای (انسانه) باران چې وځي له منځه د دې ورېځې.

تفسیر: یعنې ړومبی د ورېځو وړوکې وړوکې ټوټې پورته کیږي، دغه ګردې سره یو ځای کیږي، او یوه لویه د ورېځې ټوټه ترې جوړیږي، بیا دغه ورېځې داسې ترتیب او ترکیب مومي، چې د یوې د پاسه به بله ځای نیسي، او یوه پرېږه (غټه) طبقه ترې متشکله کیږي.

وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ جِبَالٍ فِيهَا مِنْ بَرَدٍ فَيُصِيبُ بِهِ مَنْ يَشَاءُ وَيَصْرِفُهُ عَنْ مَنْ يَشَاءُ ۖ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهِ يَذْهَبُ بِالْأَبْصَارِ ﴿٤٣﴾

او نازلوي (الله) له (طرفه د) اسمانه له (ورېځو یا د ږلیو په شان د) غرونو، چې وي په هغو (غرونو) کې ځینې له ږلی، پس رسوي (الله) دا ږلی هغه چاته چې اراده وفرمایي (د رسونې یې)، او ګرځوي یې هر هغه چا نه چې اراده یې وفرمایي (د ګرځولو یې)، نژدې وي رڼا برېښنا د هغو (ږلی) چې بیول وکړي په ابصارو (د ناظرینو او ورک کړي بصارت یې).

تفسیر: یعنې لکه چې په ځمکه کې د تیږو (ګټو) غرونه دي، ځینو اسلافو ویلي دي چې هم داسې په اسمان کې هم د ږلی غرونه دي، شیخ الهند محمود الحسن (رحمة الله علیه) د دې سره موافقه ترجمه کړې ده، لیکن زیاته او راجح او قوي دا ده، چې له سماء څخه ورېځې مراد شي، مطلب یې داسې شو چې له ورېځو څخه چې په کثافت او غلظت کې د غرونو په شان دي؛ ږلی اوروي، چې له هغو څخه ډېرو خلقو ته جاني او مالي نقصانات رسیږي، او زیات کسان ترې محفوظ پاتې کیږي.

يُقَلِّبُ اللَّهُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِأُولِي الْأَبْصَارِ ﴿٤٤﴾

ګرځوي الله شپه او ورځ (په تبدیل، تزیید، تنقیص، حرارت، برودت، ضیاء، ظلمت او نورو)، بېشکه په دغو (یاد شویو شیانو) کې خامخا عبرت دی خاوندانو د سترګو او بصیرت ته.

تفسیر: یعنې د ورځې څخه وروسته شپه او د شپې څخه وروسته ورځ د همدغه پاک الله په قدرت ځي راځي، همدغه الله تعالی کله ورځې او کله شپې اوږدوي او لنډوي، او د هغوی تودوالی په یخوالي او یخوالی په تودوالي سره تبدیلوي، نو لازم دی چې د قدرت د داسې عظیم الشأن دلائلو او شواهدو د لیدلو څخه انسان بصیرت او عبرت حاصل کړي، او د هغه حقیقي مالک الملکوت په طرف د زړه په صدق سره رجوع وکړي، چې د ده په قدرت کې د دغو ګردو تقلّباتو او تصرّفاتو زمام او واګې دي.

وَاللّٰهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّنْ مَّآءٍ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى بَطْنِهٖ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى رِجْلَيْنِ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰٓى اَرْبَعٍ ۚ يَخْلُقُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ۚ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۴۵﴾

او الله پیدا کړی دی هر حیوان چې ګرځي (په ځمکه کې) له اوبو، پس ځینې له هغوی هغه دي چې تګ کوي (خوځیږي) پر نس ګډلو پر ټټر خپل (لکه مهي، مار)، او ځینې له دوی هغه دي چې تګ کوي پر دوو پښو (خپلو لکه انسان مرغان)، او ځینې د دوی هغه دي چې تګ کوي په څلورو (پښو لکه اس، اوښ)، پیدا کوي الله (ما سوا له دغو مذکورو) هر هغه څه چې اراده یې وفرمایي (د خلقت د هغو)، بېشکه الله پر هر څیز باندې ښه قادر دی (چې ځینې یې خلقت د هر راز مخلوقاتو دی).

تفسیر: یعنې که کوم حیوان ته له څلورو پښو څخه زیاتې پښې هم ورکړي دی؛ نو بعید نه دی، او د ده لا محدوده قدرت او مشیت هیڅوک نشي محصورولی، او که الله تعالی خپل ځینو مخلوقاتو ته دغسې قدرت ورعطاء کړي، چې هغوی له جماداتو او عناصرو او نورو څخه نور شیان ایجاد او اختراع کړي؛ نو هغه هم د همدغه الله لطف او احسان دی، چې هغوی ته یې دغسې پوهه او ادراک ور په برخه کړی دی.

لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ ۚ وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۴۶﴾

خامخا په تحقیق نازل کړي دي مونږ آیتونه بیانوونکي واضح، او الله سمه صافه لاره ښیي هر هغه ته چې اراده وفرمایي (د لار ښوونې د هغې) لارې سمې صافې (د اسلام او جنّت ته).

تفسیر: یعنې تکوینیه او تنزیلیه آیات یې دومره ښکاره او واضح دي، چې د هغو په لیدلو او اوربدلو هم هیڅ یو عقلمن انسان ښایي ګمراه او بې لارې نشي، لیکن پر سمه صافه لاره همغه تلی شي چې الله تعالی ورته د هدایت توفیق ور په برخه کړی وي، سره له دې چې په ملیونو انسانانو دغه د قدرت ظاهر او باهر دلائل او شواهد ګوري، کله چې دوی د هغو په وسیله خالق تعالی نه پېژني، او نه موحدان او مسلمانان کیږي؛ ګواکې د نتیجې په اعتبار د دوی دغه لیدل د نه لیدلو په شان دي.

وَيَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالرَّسُوْلِ وَاَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ۭ وَمَآ اُولٰۗىِٕكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾

او وایي (دا منافقان) چې ایمان راوړی دی مونږ پر الله او پر رسول (د الله) او حکم منلی دی مونږ (د الله او د رسول الله)، بیا مخ ګرځوي (له اسلامه) یوه ډله له دوی وروسته له هغه (ایمان او اطاعت)، او نه دي دغه (ګرځېدونکي) مؤمنان (صدقاً).

تفسیر: دغه د منافقینو ذکر دی، دوی به په ژبه سره د ایمان او اطاعت دعوی کوله، کله چې د عمل وخت راته، نو سم له خپلې دعوی سره به یې عمل نه کاوه، او له اسلامي احکامو به یې مخ ګرځاوه، حقیقت دا دی چې د دوی په زړونو کې له ابتداء څخه د ایمان او انقیاد آثار نه وو موجود، هغه چې د ژبې جمع او خرڅ وو؛ د امتحان او ابتلاء په وخت کې به دغه کلائین هم ویلې کېده، او دروغ به یې له رښتیا څرګند او جلا ښکارېده.

وَإِذَا دُعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٤٨﴾ وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلْحَقُّ يَأْتُوٓا۟ إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ ﴿٤٩﴾

او هر کله چې وبللی شي دوی الله او رسول د دغه (الله) ته لپاره ددې چې حکم وکړي دغه (رسول) په منځ د دوی کې؛ ناڅاپه یو فریق ډله د دوی اعراض ډډه کوونکي دي (له حکم د رسوله). او که چېرې وي دوی ته حق (په زعم د دوی پر بل)؛ نو راځي دوی دغه (رسول الله) ته ګړندي فرمان منونکي.

تفسیر: یعنې که له دوی جګړه له چا سره واقع کېده، او په دې پوهېدل چې مونږ په ناحقه یو، په دغه وخت کې که مقابل فریق هغوی ته ویل چې: راځه چې د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته لاړ شو، او د دغې جګړې فیصله له هغوی څخه وغواړو !؛ نو دغه منافقان به په دغه ورتګ نه راضي کېدل، ځکه چې دوی پوهېدل چې محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم بې له لحاظ او خاطر د حق او حقّانیت رعایت کوي، او سم له عدله او انصافه خپله فیصله صادروي، چې په هغه تقدیر به د دوی له مفاد څخه مخالف واقع کېده، حال دا چې پخوا له دې نه به دوی داسې دعوی کوله؛ چې مونږ پر الله تعالی او رسول الله ایمان راوړی دی، او د دوی ګرد احکام منو؛ نو اوس د دوی هغه دعوی چېرې لاړه؟ هو ! که په کومه معامله کې حق د دوی په طرف وي؛ نو په دغه وخت کې په ډېر سرعت او چالاکی او په ماته غاړه د محمد صلی الله علیه وسلم دربار ته حاضریږي، او د خپلې فیصلې انحصار د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په مبارک ذات څرګندوي، ځکه چې په دغه تقدیر دوی داسې ګڼي چې هلته سم له عدالته او انصافه ځمونږ په جانب فیصله صادریږي، نو دغه څنګه ایمان او اسلام دی؟ دا خو تش شخصي اغراض او هواپرستي ده.

أَفِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَمِ ٱرْتَابُوٓا۟ أَمْ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُولُهُۥ ۚ بَلْ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٥٠﴾

آیا په زړونو د دوی کې مرض رنځوري (د کفر او نفاق) ده؟، آیا شکمن دي دوی (په نبوّت د محمد)؟، آیا ویریږي دوی له دې نه چې ظلم به وکړي الله پر دوی (یا ظلم به وکړي) رسول د دغه (الله پر دوی؟، داسې نه دی چې الله او رسول الله پر چا ظلم وکړي)، بلکه دوی چې دي همدوی ظالمان دي (په اعراض سره).

تفسیر: یعنې د الله تعالی جلّ جلاله او محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په نسبت تاسې ته څه تردّد او اندېښنه پیدا شوې ده، یا د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په صداقت یا د الله تعالی جل جلاله په وعد او وعید کې څه شک او شبهه لرئ؟ یا داسې ګمان کوئ چې الله تعالی جل جلاله یا د هغه رسول محمد صلی الله علیه وسلم به د دوی معاملات په خلاف د انصاف فیصله کوي؟ نو ځکه د دوی په حضور کې د خپلې دعوی له وړلو څخه څه اندېښنه او تردّد کوي؟ نو په یاد یې ولرئ چې هلته له سره د ظلم او بې انصافی احتمال نشته، هو ! پخپله همدغو خلقو ظلم ته خپلې ملاوې ټرلي دي، او غواړي چې خپل حق پوره حاصل کړي، او د نورو یوه پیسه هم ېرته ور نه کړي، نو ځکه له دې نه ویریږي چې خپل معاملات محمدي شریعت او الهي عدالت ته وړاندې کړي، ځکه چې پوهیږي چې د محمد رسول الله منصفانه فیصله به ځمونږ له مطلب څخه خلاف وي.

إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُوا۟ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۚ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٥١﴾

بېشکه همدا خبره ده چې ده وینا د مؤمنانو کله چې وبللی شي دوی الله ته او رسول د دغه (الله) ته لپاره د دې چې حکم وکړي په منځ د دوی کې (په وخت د جګړې کې)؛ دا چې ووایي:

واورېده مونږ (خبره د تا)، او ومانه مونږ (حکم د تا) او دغه ویونکي همدوی دي بریالیان (کامیاب) خلاصی موندونکي (له عذابه په مراد رسیدلي).

تفسیر: یعنې د صادقو مسلمانانو کار داسې وي او ښایي چې همداسې وي، کله چې په کومه معامله کې دوی ته د الله تعالی د احکامو بلنه او دعوت وشي، اګر که ظاهراً په هغه کې د دوی ګټه (فائده) یا تاوان وي؛ په منلو ورځغلي، او د یوې شېبې لپاره څه ځنډ (تأخیر) او توقّف په کې نه کوي، او في الفور «سمعًا وطاعة» ووایي، او د هغه د حکم منلو لپاره تیار او آماده شي، چې په دغه کې د دوی اصلي نیکي او حقیقي فلاح راز مضمر دی.

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللّٰهَ وَيَتَّقْهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۵۲﴾

او هر څوک چې اطاعت وکړي حکم ومني د الله، او د رسول د دغه (الله) او وویریږي له الله، او ځان وساتي (له غضبه د ده)؛ پس دغه (فرمان منونکي ویریدونکي) همدوی دي بري موندونکي د (جنّت).

تفسیر: یعنې هغه چې في الحال مطیع وي، او پر خپلو تېرو تقصیراتو نادم وي، او له الله تعالی څخه ووېریږي، او توبه وکړي او په مستقبل کې له بدو چارو او لارو څخه خپل ځان وساتي؛ نو د دوی لپاره په دنیا او آخرت کې بری او کامیابي ده.

وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ اَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ ؕ قُلْ لَّا تُقْسِمُوْا ۚ طَاعَةٌ مَّعْرُوْفَةٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۳﴾

او قسمونه خوري (منافقان) په الله سخت سخت قسمونه د دوی، قسم دی خامخا چې که (حکم) امر وکړې دوی ته (په وتلو سره جهاد ته)؛ نو خامخا به وځي (دغه جهاد ته) دوی هرومرو، ووایه (ای محمده ! منافقانو ته) قسم مه خورئ تاسې د دروغو، طاعت نېک (ځمونږ مطلب دی)، بېشکه الله ښه خبردار دی په هغو کارونو چې کوئ یې تاسې.

تفسیر: یعنې منافقان ډېر سخت تأکیدي قسمونه خوري، او غواړي چې تاسې بیخي ډاډه او متیقن کړي چې: «که تاسې مونږ ته حکم راکړئ؛ نو مونږ ګرد کور کهول پرېږدو، او دې ته تیار ولاړ یو چې د الله تعالی لارې ته ووځو، او د هغه د ګردو احکامو تعمیل وکړو، که محمد رسول الله مبارک لږ څه اشاره وفرمایي؛ نو مونږ خپل ګرد مال دولت د الله تعالی په لاره کې لګوو، او مونږ ترې بیخي جدا کیږو»، نو د دې په نسبت داسې فرمایي چې: دومره غټو خبرو ویلو او داسې قسمونو یادولو ته حاجت نشته، ستاسې د اطاعت حقیقت ګردو ته معلوم شوی دی.

قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَّا حُمِّلْتُمْ ؕ وَاِنْ تُطِيْعُوْهُ تَهْتَدُوْا ؕ وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۵۴﴾

ووایه (ای محمده دوی ته) اطاعت وکړئ (حکم ومنئ) تاسې د الله او د رسول (د الله په خلوص سره په هر څه کې)، پس که مخ وګرځوئ تاسې (ای خلقو له اطاعته د رسول الله)؛ نو بېشکه همدا خبره ده چې دی پر دغه رسول ځما هغه بار (د تبلیغ) چې پرې ایښی شوی دی، او دی پر تاسې هغه (بار) چې پر تاسې ایښی شوی دی (او پرې مکلّف یئ، چې اطاعت د رسول الله دی)، او که اطاعت وکړئ، حکم ومنئ تاسې د دغه (رسول الله)؛ نو سمه صافه لاره به ومومئ،

او حق ته به پرې ورسېږئ، او نه دی پر (ذمه د) رسول مګر رسونه ښکاره (د شرائعو چې هغه يې ادا کړې ده).

تفسير: يعنې پر رسول د الله تعالى له طرفه د تبليغ بار ايښى شوى دى، چې ده هغه په ښه شان سره اداء کړى دى، او کوم بار چې پر تاسې ايښى شوى دى؛ هغه تصديق او د حق قبول دى، او دغه ده چې د ده د ارشاده سره موافق تګ وکړئ !، که تاسې دغه خپله ذمه واري محسوسه کړئ، او د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم د احکامو تعميل په ښه شان سره وکړئ؛ نو د دواړو دارينو برى او د کاميابى لاره به وموميئ، او په دنيا او عُقبى کې به خوشال اوسېږئ، که نه د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم هيڅ نقصان نشته، او تاسې به د خپلو شرارتونو او سرکښيو سزا او بده نتيجه پخپله وګورئ، محمد رسول الله خو خپله فريضه اداء کړې ده، او عند الله له خپلې ذمه وارى څخه مسئول نه دى.

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِي ارْتَضٰى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ اَمْنًا يَعْبُدُوْنَنِيْ لَا يُشْرِكُوْنَ بِيْ شَيْئًا ؕ

وعده کړې ده الله له هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړى دى له تاسې، او کړي يې دي ښه (عملونه)، چې قسم دى خامخا به خليفګان کړي (الله) دوى په ځمکه کې لکه چې خليفګان کړي يې وو هغه کسان چې پخوا وو له دوى نه، او خامخا ثابت قوي به وګرځوي هرومرو دوى ته دين د دوى هغه (دين د اسلام) چې غوره کړى دى (الله) دوى ته، او هرومرو بدل به ورکړي هرومرو دوى ته وروسته له وېرې د دوى له دښمنانو امن (او اطمينان)، عبادت به کوي دوى ځما، شريک به نه پيدا کوي له ما سره هيڅ څيز.

تفسير: يعنې هغه ذوات چې د دوى په منځ کې په اعلى درجه نېکان او د سيد الانس والجان کامل پيروان او تابعان دي، وروسته له رسول الله به دوى ته د ځمکې حکومت ورکاوه کيږي، او د اسلام دغه دين به چې د الله تعالى خوښ او پسند دى، د دوى په لاسونو خوروي او قائموي، لکه چې د استخلاف په لفظ کې دې طرف ته اشاره ده، چې دغه کسان به تش د دنيوي باچاهانو په شان نه وي، بلکه د رسول الله خليفه ګان به وي، د سماوي حکومت اعلان به کوي، او د حق دين اساسونه به قائموي، او په بر او بحر او هر چېرې به د دوى احکام او تصرّفات جاري کيږي، په دغه وخت کې به مسلمانان د کافرانو څخه نه ويريږي، او په پوره امن او سکون سره به د الله تعالى په عبادت کې مشغول او لګيا اوسيږي، او په دنيا کې به د امن او امان زمانه او دوره وي، د دغو مقبولو او معززو بندګانو ممتاز شان به دغه وي، چې دوى به د خالص واحد الله تعالى عبادت او بندګي داسې کوي چې په هغې کې به د يوې ذرې په اندازه هم د شرک او اختلاط اثر نه وي، د جلي شرک ذکر او نسبت خو له دغو سره امکان نه لري، د خفي شرک لږ آثار او علائم به هم په دوى کې نه ليدل کيږي، دوى ګرد به د يوه «قدّوس جل وعلا شأنه و عظم برهانه» خالص بندګان وي، او يواځې به له الله تعالى څخه ويريږي، او يواځې هغه ته به هيله (آرزو) او اسره کوي، او پرې متوکلان معتمدان به وي، د الله د رضاء په لاره کې به ژوندون کوي، او په همدغه لاره کې به خپل ځانونه جاروي (قربانوي)، پرته له الله تعالى د بل کوم موجود خوف او وېره به له سره د دوى په زړونو کې لارې نه مومي، او نه د بل چا د خوښې او خفګان څه پروا کوي.

الحمد لله چې د الله تعالى دغه وعده د څلورو تنو راشدو خلفاوو رضي الله تعالى عنهم په لاسونو پوره شوه، او ګردې دنيا د دغه عظيم الشأنو وړاندوينو (پېښګويي) د يوې يوې وينا، د يوه يوه حرف مصداق پخپلو سترګو سره

وليدل، د څلورو واړو راشدو خلفاوو رضي الله تعالى عنهم څخه وروسته هم اسلامي باچاهان وقتًا فوقتًا په همدغو اوصافو سره متصف راغلي دي، هر كله چې الله تعالى بيا اراده وفرمايي؛ وروسته له دې نه هم راځي.

په احاديثو كې راغلي دي، چې وروستنى خليفه به امام مهدي رضي الله تعالى عنه وي، چې د هغه په نسبت عجيب او غريب بشارات اورول شوي دي، د الله تعالى څمكه له عدله او انصافه ډكوي، او في سبيل الله جهاد كوي، او د هغه په قوّت به «كلمة الله» ته اعلاء او اسلام ته بنه ترقي او اعتلاء وركوي، «اللهم احشُرنا في زُمرته، وارزُقنا شهادة في سبيلك، إنك واسع المغفرة وذو الفضل العظيم».

وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُونَ ﴿٥٥﴾

او هر څوك چې كافر شو پس له دغو لويو انعاماتو؛ پس دغه كسان هم دوى (غټ) فاسقان دي.

تفسير: يعنې د داسې عظيمو انعاماتو څخه وروسته ناشكري د ډېرو لويو مجرمانو او د زورورو عاصيانو كار دى، شاه صاحب فرمايي: «هر هغه څوك چې د څلورو خلفاوو د خلافت او د دوى د فضل او شرف څخه منكر شو؛ د دغو الفاظو څخه د ده حال څرګندواوه شي»، ﴿وَالَّذِينَ جَآءُو مِنۢ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلْإِيمَٰنِ وَلَا تَجْعَلْ فِى قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾.

وَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٥٦﴾

او قائموئ تاسې (سم اداء كوئ سره له ټولو حقوقو) لمونځ، او وركوئ زكات، او اطاعت وكړئ حكم ومنئ تاسې د رسول (د الله)؛ ښايي تاسې ته چې رحم وكړي شي پر تاسې.

تفسير: يعنې كه د الله تعالى له رحمته برخه اخيستل غواړئ؛ نو تاسې هم د هم هغو مقبولو بندګانو په شان حسنه اعمال ځان اختيار كړئ !، چې د لمونځونو په بنه شان سره قائمول، د زكات وركول دي، او د حيات په ټولو شعبو كې د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر احكامو تلل دي.

لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مُعْجِزِينَ فِى الْأَرْضِ ۚ وَمَأْوٰىهُمُ النَّارُ ۖ وَلَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿٥٧﴾

مه كوه ګمان خامخا پر هغو كسانو چې كافران شوى دي عاجز كوونكي (د الله) په ځمكه كې، او ځاى د هستوګنې د وى اور (د دوزخ) دى، او خامخا بد ځاى د ورتلو دى (دا دوزخ).

تفسير: دغه د نېكو بندګانو په مقابل كې يې د مردود او مغضوبو خلقو انجام او خاتمه ښوولې ده، يعنې كله چې نېكانو ته د ملك حكومت او د ځمكې خلافت عطاء كيږي؛ نو د كافرانو او بدكارانو ګردې مكارۍ او تدابير ماتيږي، او ماته يې ور په برخه كيږي، د الله تعالى د ارادې مخه هيڅ نشي نيولى، كه دوى په ګرده دنيا كې دې خوا او هغې خوا ته منډې ووهي، او هر چېرې لاړ شي او وځغلي؛ نو بيا هم د الله تعالى له سزا او پوښتنې څخه ځان نشي پټولى او خلاصولى، او يقينًا دوى د جهنّم په بنديخانه كې غورځول كيږي.

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لِيَسْتَـْٔذِنكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنكُمْ ثَلٰثَ مَرّٰتٍ ۚ مِّن قَبْلِ صَلٰوةِ الْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ الظَّهِيرَةِ وَمِنۢ بَعْدِ صَلٰوةِ الْعِشَآءِ ۚ ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ لَّكُمْ ۚ

اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى (يعنې اى مؤمنانو !) ښايي چې اذن دې وغواړي له تاسې (په وخت د ننوتلو كې پر تاسې باندې) هغه (وينځې او مريان) چې مالكان شوي وي د هغو ښې لاسونه د تاسې، او هغه كسان چې نه دي رسيدلي حد (احتلام بلوغ) عقل ته له تاسې (احرارو) درې كرته: پخوا له لمانځه د سهار، او په هغه وخت كې چې ږدئ تاسې كالي (جامې) خپل د غرمې په وخت كې، او پس له لمانځه د ماسوختن، (دغه اوقات) درې وقتونه د خلل (پېښېدو د ستر) دي تاسې ته.

تفسير: په همدغو دريو اوقاتو كې عمومًا زائد كالي (جامې) له ځانه لرې كيږي، يا د خوب او د ويښې لباس سره تبديليږي، او مړوښي زياتره په هم دغو اوقاتو كې كاوه شي، كله پخوا له سهاره، كله د غرمې د لمبلو شوق يا ضرورت چې هم انسان ته پېښيږي، او دا غواړي چې بل څوك پرې مطلع او خبر نشي، نو ځكه يې حكم وركړ چې په دغو دريو اوقاتو كې نابالغو هلكانو، وينځو، او مريانو ته هم ښايي چې د ننوتلو اجازه واخلي، په نورو اوقاتو كې دوى ته نه ښايي چې د نورو پردیو په شان اجازه وغواړي، مګر كه كوم شخص د خپلو مصالحو لامله په نورو اوقاتو كې هم د استيذان قيد زيات كړي؛ نو دلته استجازه ضروري ده.

لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ ۚ طَوَّافُونَ عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٨﴾

نشته پر تاسې او نه پر دوى باندې هيڅ ګناه (وبال) تېر له دغو دريو وقتونو (په بې اذن ننوتلو د دوى كې پر تاسې)، دوى ګرځېدونكي دي پر تاسې (په تللو او ننوتلو لپاره د خدمت)، ځينې ستاسې پر ځينو نورو (ګرځېدونكي يئ يو په بل)، همداسې (لكه چې دغه بيان يې درته وكړ)؛ ښكاره بيانوي الله تاسې ته آيتونه (د احكامو)، او الله ښه عالم (په ټولو احوالو) ښه حكمت والا دى.

تفسير: يعنې د پورته ذكر شويو اوقاتو څخه ما سوا په نورو اوقاتو كې عادتًا بې له مزاحمته او ممانعته يو له بل سره كتلى شئ، او په دغو تللو راتللو كې نابالغو هلكانو، وينځو او مريانو ته لازم نه دي، چې د هر وارې ننوتلو لپاره اذن او اجازه وغواړي، ځكه چې د دې شيانو له رعايته ډېر تكليف او حرج پېښيږي، او په كارونو كې او معاملاتو كې ډېر بندوالى او حرج واقع كيږي، چې هغه د الله تعالى له حكمته خلاف دى.

وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٩﴾ وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَنْ يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ ۖ وَأَنْ يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَهُنَّ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٦٠﴾

او كله چې ورسېدل واړه هلكان (اصيلان) ستاسې حد د (بلوغ) عقل ته؛ پس اذن دې وغواړي (په ننوتلو كې) پر تاسې باندې، لكه چې اذن غوښت هغو كسانو (چې بالغان شوي وو) پخوا له دغو (اطفالو)، همداسې (لكه چې بيان يې وفرمايه) ښكاره بيانوي الله تاسې ته آيتونه (د احكامو) خپلو، او الله ښه عالم (په ټولو احوالو) ډېر حكمت والا دى (چې هر كار په تدبير او مصلحت سره كوي). او زړې ناستې له ښځو هغو څخه چې اميد نه لري دوى د نكاح (په سبب د ډېر زړوالي)؛

پس نشته پر دوی هیڅ ګناه (وبال) چې کیږدی (وباسی) دوی ظاهری جامی خپلی (لکه چادری او برقی) په دې حال کې چې ښکاره کوونکي نه وي د ښایست خپل، او دا چې دوی ځان وساتي (له ایستلو د ظاهري جامې څخه هم) خیر دی دوی ته، او الله ښه اورېدونکی (د ټولو اقوالو)، ښه عالم دی (په ټولو احوالو).

تفسیر: یعنې هلکان تر هغه پورې چې نابالغه وي؛ د دغو دریو اوقاتو څخه ما سوا په نورو اوقاتو کې بلا اجازت ننوتلی شي، کله چې د بلوغ حد ته ورسیږي؛ بیا د هغه حکم د همغو نارینه وو په شان دی چې د هغو احکام په دغه آیت کې تېر شول: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ حَتَّىٰ تَسۡتَأۡنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَهۡلِهَا﴾.

شاه صاحب لیکي: «که سپین سرې بوډی ښځې پخپلو کورونو کې په لږو ضروریو کالیو (جامو) کې لکه کمیس پرتوګ ټکری اوسیږي؛ نو درست دی، او که په پوره پرده کې واوسي؛ نو لا بهتر دی»، او کله چې له کوره د باندې وځي؛ که زائد کالي مثلاً برقع او نور له خپله ځانه لرې کړي؛ نو هیڅ مضایقه نه لري، په دې شرط سره چې په هغو کالیو د زینت اظهار نه وي، چې د هغې د پټ ساتلو حکم د ﴿وَلَا يُبۡدِينَ زِينَتَهُنَّ﴾ الآیة - په آیت کې ورکړی شوی دی، له دې نه د دې خبرې اندازه په ښه شان سره کېدی شي، چې قرآنکریم د ځوانو ښځو د پردې او ستر په متعلّق څه منشأ لري؟ یعنې دغه خو د فتنې مخې نیولو او انسداد ظاهري انتظامات دي، پاتې شوې هغه خبرې چې د پردې په منځ کې کیږي، او د فتنې اسباب او عوامل ځېږ ږي (پیدا کیږي)؛ نو ښه وپوهیږئ چې الله تعالی د ګردو خبر اوري، او پر هر شي ښه خبردار دی، او سم له هغو به د هر چا سره معامله کوي.

لَّيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡأَعۡرَجِ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرِيضِ حَرَجٞ وَلَا عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۡ أَن تَأۡكُلُواْ مِنۢ بُيُوتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ ءَابَآئِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ أُمَّهَٰتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ إِخۡوَٰنِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ أَخَوَٰتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ أَعۡمَٰمِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ عَمَّٰتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ أَخۡوَٰلِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ خَٰلَٰتِكُمۡ أَوۡ مَا مَلَكۡتُم مَّفَاتِحَهُۥٓ أَوۡ صَدِيقِكُمۡ لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَأۡكُلُواْ جَمِيعًا أَوۡ أَشۡتَاتٗا فَإِذَا دَخَلۡتُم بُيُوتٗا فَسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۡ تَحِيَّةٗ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُبَٰرَكَةٗ طَيِّبَةٗۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٦١

نشته پر ړانده هیڅ حرج (مشقّت)، او نه پر ګوډ هیڅ حرج (محنت او وبال)، او نه په رنځور هیڅ حرج (سختي او ملامتي)، او نشته پر نفسونو ځانونو ستاسې هیڅ حرج (کلفت)؛ چې وخورئ تاسې له کورونو خپلو (یا له کورونو د اولادو او عیالو خپلو)، یا له کورونو د پلرونو خپلو، یا له کورونو د میندو خپلو، یا له کورونو د وروڼو خپلو، یا له کورونو د خویندو خپلو، یا له کورونو د ترونو خپلو، یا له کورونو د عمو (تروریانو) خپلو، یا له کورونو د ماماګانو خپلو، یا له کورونو د خالو (تورېانو) خپلو، یا (له کورونو د هغه چا) چې مالکان شوي یئ تاسې د کلیګانو (کنجیانو) د هغه (او د هغو متصرّفان یئ)، (یا له کورونو) د دوستانو خپلو، نشته پر تاسې هیڅ ګناه (وبال) په دې چې وخورئ (طعام ټول) سره یو ځای یا بېل بېل، نو کله چې ننوځئ تاسې (دغو مذکورو) کورونو ته؛ پس سلام اچوئ تاسې پر ځانونو خپلو، پېشکشي ده ثابته له (جانبه د) الله مبارکه طیبه (برکتناکه پاکیزه)، همداسې (لکه چې دغه تېر بیان یې وفرمایه)؛ ښکاره بیانوي الله تاسې ته آیتونه (د حکمت او احکام خپل) ښایي چې تاسې عقل وچلوئ (په خیر او شر).

تفسير: يعني د هغو کارونو له کولو څخه دغه أهل الابتلاء معاف دي چې په کې تکليف وي، مثلاً جهاد، حج، جمعه او جماعت او نور داسې شيان، (کذا في الموضح).

يا يې دا مطلب دی، چې د دغو معذروانو محتاجانو په خوراک کې له روغو خلقو سره هيڅ تکليف او حرج نشته، ځکه چې د جاهليت په زمانه کې به يې داسې محتاجان او معذوران نه پرېښوول، چې له اغنياوو او روغو خلقو سره ډوډۍ وخوري، د دوی په زړه کې به داسې خبرې ګرځېدې چې البته دغه خلق له دې نه کرکه او نفرت کوي، چې له مونږ سره ډوډۍ وخوري، يا ځمونږ له ځينو اوضاعو او حرکاتو څخه لکه چې دوی ته ايذاء او ضرر ورورسيږي، او په واقع سره چې ځينو ته له دې نه نفرت او وحشت هم پيدا کېده، ځينو مسلمانانو ته له ډېرې اتقاء داسې خيال پيدا کېده، چې د داسې معذورانو او مريضانو سره په يو ځای خوراک کولو کې شايد د مساوات او عدل اصول قائم پاتې نشي، ړوند د خوراک ګرد شيان نشي موندلی، ګوډ امکان لري چې په ځنډ (تأخير) سره راشي، او په مناسب ځای کې نشي کېناستی، د رنځورانو خبره خو د خوځولو نه ده، نو بناء عليه له هغوی سره يې په يو ځای کېناستلو کې احتياط کاوه، څو د دوی حق تلف نشي.

﴿أَوْ مَا مَلَكْتُم مَّفَاتِحَهُ﴾ يعني ستاسې تر تصرّف لاندې ايښې شوي دي، مثلاً يو سړی بل سړی د خپل شي وکيل يا محافظ ګرځوي، او دی که له هغه څخه څه شی د معروف په کومه اندازه خوري او څښي؛ نو مجاز دي.

د سلام اچولو تقييد يې وفرمايه د ملاقات په وخت کې؛ ځکه چې له دې نه بله کومه ښه دعاء نشته، هغه خلق چې سلام نه اچوي، او د هغه په ځای نور الفاظ له خپله ځانه جوړوي، يا د نورو پرديو اقوامو او مللو تقليدونه کوي؛ نو د دوی دغه تجاويز او تقاليد له سره د الله تعالى له دغه حکمه او تجويزه نشي بهتر کېدی.

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَىٰ أَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوا حَتَّىٰ يَسْتَأْذِنُوهُ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ۚ فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٢﴾

بېشکه همدا خبره ده چې مؤمنان هغه کسان دي، چې ايمان يې راوړی دی پر الله او (په) رسول (د الله)، او کله چې وي دوی له دغه (رسُول) سره پر کوم کار جمع کوونکي (د خلقو لکه جمعه ـ جهاد يا جرګه)؛ نو نه ځي (پخپل سر) تر هغه پورې چې اذن وغواړي له دغه (رسول الله) نه، بېشکه هغه کسان چې اذن غواړي له تانه (ای ځما رسوله)؛ دوی هغه کسان دي چې کامل ايمان يقين لري پر الله او رسول د الله (او مني يې)، پس کله چې اذن وغواړي دوی له تانه (ای رسوله ځما تللو ته) لپاره د ځينو کارونو خپلو؛ پس اذن ورکړه هغه چاته چې خوښه وشي ستا له دوی نه (د اذن ورکولو)، او مغفرت وغواړه د دوی لپاره له الله تعالى، بېشکه الله ښه بخښونکی (د خطيّاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: يعني پوره ايمان لرونکي هغه دي چې د محمد رسو ل الله په غوښتلو سره ژر حاضرېږي، او کله چې په کوم اجتماعي کار کې شريک او ملګری شي، لکه جمعه، عيدين، جهاد، د مشورې مجالس او نور؛ نو بې له اجازې تر نه ځي، او په خپل سر تر نه پاځېږي، همدغه کسان هغه ذوات دي، چې په کاملې او صحيحې معنی سره د الله تعالى او د رسول الله أحکام مني، او د دوی پوره مطيعان دي.

لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا ۚ قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنْكُمْ لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾

مه ګرځوئ (مه ګڼئ ای مؤمنانو ! بلنه) دعاء د رسول پخپلو منځونو کې پشان د دعاء (بلنې) د ځینو د تاسې ځینو نورو ته (بلکه د رسول د بلنې اجابت ضرور وکړئ)، په تحقیق معلوم دي الله ته هغه کسان (هم) چې کښیږي یو یو دوه دوه پټ د باندې وځي له تاسې، په دې حال چې یو له بله ځان سره پنا کوي او وځي، پس ودې ویریږي هغه کسان چې مخالفت کوي له امره (حکمه) د دغه (رسول ځما) له دې نه چې ورسیږي دوی ته څه فتنه (آفت په دنیا کې)، یا ورسیږي دوی ته عذاب دردناک (په آخرت کې).

تفسیر: یعنې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر غوښتلو حاضر کېدل فرضیږي، ځکه چې د رسول الله غوښتل د نورو د غوښتلو په شان نه دي، او ښایي چې تل د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعوت ځواب په «لبّیک» سره ووایي، که د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دعوت نه حاضریږي؛ نو ښایي چې د دوی له ښېرا څخه وویریږي، ځکه چې د دوی ښېرا د نورو انسانانو په شان نه ده، او په مخاطباتو کې دې هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ادب او د عظمت او عزّت پوره لحاظ او رعایت وکړ شي، او د نورو عوامّو خلقو په شان «یا محمد» یا نورو عادي الفاظو سره دې خطاب ورنه کړی شي، بلکه د «یا نبي الله !»، «یا رسول الله !» په شان تعظیمي القابو سره دې مخاطب وګرځولی شي.

دغه کسان چې د نبوي مجلسه د باندې وتل؛ هغه منافقان وو چې پر دوی پند اونصیحت اورېدل ډېر سخت او شاقّ وو، هر کله چې دوی موقع موندله؛ سترګې به یې غولولې، او ښوی بې له اجازې له مجلس څخه د باندې تښتېدل، مثلاً هر کله چې به کوم مسلمان د خپل ضرورت له کبله له پیغمبر صلی الله علیه وسلم په اجازه له مجلس څخه تللو نو دوی به هم خپل ځان له هغه سره نښلاوه، یا د ده په سیوري کې به یې خپل ځان ښوی تېراوه، نو د دې په نسبت داسې فرمایي چې: تاسې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه څه خپل ځان پټوئ، پاک الله ته خو ستاسې ګرد حال احوال معلوم دي.

﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ﴾ یعنې د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له احکامو څخه مخالفت کوونکي ته خوف او وېره پکار ده، چې د دوی په زړونو کې د کفر او نفاق او د نورو فتنو نیالګي (جړې) د تل لپاره ببخ او بنسټ (بنیاد) ونه نیسي، او د هغه لامله د دنیا په کوم دردناک عذاب کې اخته او مبتلا شي.

أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ قَدْ يَعْلَمُ مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ ۖ وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوا ۗ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٦٤﴾

واورئ خبردار او پوه شئ چې ښکه خاص الله لره دي هر هغه څه چې په اسمانونو او ځمکو کې دي (سره له اسمانونو او ځمکې ملکا خلقًا وعبیدًا)، په تحقیق معلوم دي (الله ته) هر هغه څه چې تاسې پرې یئ (له اخلاصه او نفاقه) او (معلومه ده الله ته) هغه ورځ چې وروستلی شي (دغه خلق) الله، پس خبردار به کړي (الله) دوی پر هغو عملونو چې دوی کړي دي (له خیر او له شره) او الله پر هر څیز باندې، ښه عالم دی.

تفسیر: یعنې ممکن دي چې د مخلوق له سترګو څخه په پټه کوم کار وکړئ، لیکن د الله تعالی څخه ستاسې هیڅ حال او احوال نشي پټ پاتې کېدی، او نه د الله تعالی له اسمانونو او له ځمکو څخه چېرې وتلی او تښتېدلی او پټېدلی شئ،

الله تعالى همغسې چې ستاسې له دغه موجوده حالت څخه عالم او با خبر دی؛ همداسې د هغې ورځې له مجازاتو څخه هم پوره عالم او خبردار دی، کله چې ځکرد مخلوقات به د حساب او کتاب لپاره د ده په لوري بیول کیږي، او د دوی د هر یوه په مخ کې به د ده د یوې یوې ذرې عمل حساب او کتاب په واضح او ښکاره ډول ایښود کیږي، نو د داسې علیم الکلّ او مالک الکلّ له سزا څخه به مجرم چېرې نجات وموندلی شي؟.

تمّت سورة النور بفضل الله وتوفيقه.

سُورَةُ الفُرقَانِ

«د (الفرقان) سورت مکّي دی، پرته له (۶۸، ۶۹، ۷۰) آیتونو چې مدني دي، (۷۷) آیتونه، (۶) رکوع لري، په تلاوت کې (۲۵)، په نزول کې (۴۲) سورت دی، وروسته د «یس» له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

تَبٰرَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُونَ لِلْعٰلَمِينَ نَذِيرًا ①

ډېر برکتناک څښتن (خاوند) د ډېر خیر او پورته دی هغه (ذات) چې نازل کړی یې دی قرآن په بنده خپل (محمد) لپاره د دې چې شي دی خلقو ته ویروونکی (له جحیمه).

تفسیر: «فرقان» (د فیصلې کتاب) یې وفرمایل، دغه قرآن ته چې د حق او باطل آخري فیصله او د حلالو او حرامو سره بېلتون په ښکاره ډول سره کوي، یعنې قرآن عظیم الشأن ګرد جهان ته د کفر او عصیان له بدې خاتمې خبر ورکونکی دی، لکه چې په دغه سورت کې «د مکذبینو» او معاندینو ذکر ډېر شوی دی، ښایي د هغه له خاطره دلته د «نذیر» صفت یې بیان فرمایلی وي، او «بشیر» یې نه دی یاد کړی، او د «للعالمین» په لفظ سره یې دا رابنکاره کړي دي چې دغه قرآن یوائې د عربو امیونو ته لکه چې ځینې خلق وایي؛ نه دی نازل شوی، بلکه د ګردو پېریانو او انسانانو د هدایت او اصلاح لپاره نازل شوی دی.

الَّذِي لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهٗ تَقْدِيرًا ②

هغه (الله) چې خاص همده ته دی ملک سلطنت د آسمانونو او د ځمکې، او نه یې دی نیولی هیڅ ولد، او نشته ده ته شریک په ملک سلطنت کې، او پیدا کړي دي الله هر شی، پس په اندازه کړي یې دي هغه (شی) په اندازه کولو سره.

تفسیر: یعنې جنس، نوع، قد، رنګ، خوی، عمر، اجل، عمل، رزق، حیات، ممات، مکان، زمان، او نور دا ټول یې په یوه مقدار په لوح محفوظ کې لیکلي دي، او هر څیز یې په یوه خاصه اندازه او هیئت سره ایښي او پیدا او تیار کړي دي، چې له هغو څخه همغه خواص او افعال ظاهریږي، چې د هغوی لپاره همغه پیدا شوي دي، او هیڅ یو څیز له خپلې دائرې څخه د باندې قدم نشي کېښودی، او نه پخپلو حدودو کې د عمل او تصرّف د فطري موزونیت په لحاظ د لږ تزیید او تنقیص ځای په کې شته، او نه د هغه په کوم وصف او خصوصیت کې د اعتراض او ګوتې کېښودلو موقع شته، د ساینس لوی لوی پوهان د ده د حکمت په سیندونو کې غوتې وهي، خو په پای (آخر) کې دوی په دغه وینا سره مقر او معترف کیږي: ﴿صُنْعَ اللهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ﴾ ﴿فَتَبٰرَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخٰلِقِينَ﴾.

وَاتَّخَذُوا مِنْ دُونِهٖ اٰلِهَةً لَّا يَخْلُقُونَ شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُونَ وَلَا يَمْلِكُونَ لِأَنْفُسِهِمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا وَّلَا يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَّلَا حَيٰوةً وَّلَا نُشُورًا ③

او نیولي دي دغو (کفّارو) بې له الله نور معبودان چې نشي پیدا کولی (دغه معبودان) هیڅ شی، حال دا چې دوی پخپله پیدا کاوه شي، او نه دي مالکان لپاره د ځانونو خپلو د ضرر (د دفع کولو)، او نه د نفعې (د رسولو)، او نه دي مالکان په وژلو د چا، او نه په ژوندي کولو د چا، او نه په بیا ژوندي پورته کولو د مړیو (له قبورو بعث ته).

تفسیر: یعنې د څومره ظلم، تعجّب او حیرت مقام دی، چې داسې مطلق قادر کافي نه ګڼي، او خپلو ځانونو ته د نورو معبودانو او حاکمانو تجویزونه کوي، او داسې تصوّر کوي چې ګواکې دوی هم د الله تعالی په حکومت کې د برخې خاوندان دي، حال دا چې د هغو بېچارګانو خپل وجود هم له خپله کوره نه دی، او نه پر خپل ځان د تصرّف او اختیار خاوندان دي، او نه د کومې ذرې شي د پیدا کولو واک او اختیار لري، او نه ژوندي کول او وژل د دوی په قبضه او واک کې دي، او نه په خپل مستقبل اختیار سره چاته لږ څه نفع یا نقصان رسولی شي، بلکه د خپلو ځانونو لپاره هم د یوې ذرې په برابر د ګټې (فائدې) د حاصلولو یا له نقصان ځنې د ځان ساتلو هم قوّت او قدرت نه لري، نو د داسې ضعیفو، عاجزو او مجبورو شیانو د الله تعالی سره شریک بلل څومره لوی سفاهت او انتهایي بېحیایي ده.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اِفْكُ ِۨافْتَرٰىهُ وَاَعَانَهٗ عَلَيْهِ قَوْمٌ اٰخَرُوْنَ ۚ فَقَدْ جَآءُوْ ظُلْمًا وَّزُوْرًا ۚ

او وایي هغه کسان چې کافران شوي دي: نه دی دا (قرآن) مګر دروغ دی، چې له ځانه یې جوړ کړی دی دغه (محمد)، او کومک ورسره کړی دی په دې (دروغ جوړولو کې) قومونو نورو، (نو فرمایي الله): پس په تحقیق راتلل کړي دي (دغو کفّارو) په ظلم او په دروغو سره.

تفسیر: یعنې کافرانو به ویل چې دا تشی د خولی خبری دي چې قرآن د الله تعالی کتاب دی معاذ الله محمد صلی الله علیه وسلم دځو تنو یهودانو په مدد یو کلام تیار کړي دی او هغه له خپله ځان جوړ کړي دروغ د الله تعالی په طرف مسوب کوی دي نو الله تعالی ورته وفرمایل چې له دی نه به لوی ظلم او دروغ نور څه وي چې داسی معجز کلام او حکیم کتاب ته چې د هغه صداقت او عظمت له لمر څخه زیات روښان دي افتراء او دروغ وویل شي.

وَقَالُوْٓا اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۝

او وایي (کفّار) دا قصې دي د ړومبنیو خلقو چې لیکلي دي هغه (محمد) پر لیکونکو، پس هغه لوستل کیږي په ده (لپاره د لیکلو) سبا او ښکا.

تفسیر: یعنې کفّارو به داسې ګڼل چې محمد صلی الله علیه وسلم له اهل الکتاب څخه څه قصې او خبرې اوربدلې دي، او د هغو یاداشت یې نیولی دی، یا په بل چا باندې یې د هغو یاداشت اخیستی دی، چې هم هغه یاداشتونه شپه او ورځ د ده په مخ کې پراته دي او یادوي یې، او بیا یې په نویو نویو اسالیبو اړوي راړوي، نور هیڅ شی نه دی.

قُلْ اَنْزَلَهُ الَّذِيْ يَعْلَمُ السِّرَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝

ووایه (ای محمده ! دغو کفّارو ته: نه ده داسې، بلکه) نازل کړی دی دا قرآن هغه (الله) چې عالم دی په هرو پټو چې په اسمانونو او په ځمکه کې دي، بېشکه چې الله دی ښه مغفرت کوونکی (د خطیّاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسیر: یعنې دغه پاک قرآن پخپله راښیي چې هغه د کوم انسان یا د کومې ټولنې له خوا جوړ شوی دی؟ که نه دی؟ داسې نه دی چې تاسې یې وایئ، بلکه دغه عظیم الشأن قرآن پخپله دا خبره ثابتوي چې دغه د هم هغه الله تعالی له

جانبه نازل شوی دی، چې د ده د علمي احاطې څخه د اسمانونو او د ځمکو هیڅ یو شی نشي خارجېدلی، د ده معجز کلام، فصاحت او بلاغت، علوم او معارف، غیبیه اخبار، احکام او قوانین، او هغه مکنونه چې د هغو اعماقو او زاویاوو ته هیڅوک بې د الله له توفیقه نشي رسېدلی، او ګرد عقول او افهام د هغو له پوهې عاجز او ناتوانه دي، پخپله الله تعالی دغه خبره صافه څرګندوي چې دغه د کوم محدود علم والا انسان بیان یا د کوم جعلي جمعیت کلام نه دی، بلکه دغه قرآن یې پخپل بخښش او مهربانۍ سره نازل کړی دی (موضح القرآن).

وَقَالُوْا مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ يَاْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِيْ فِي الْاَسْوَاقِ ۭ لَوْلَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُوْنَ مَعَهٗ نَذِيْرًا ۝ اَوْ يُلْقٰٓى اِلَيْهِ كَنْزٌ اَوْ تَكُوْنُ لَهٗ جَنَّةٌ يَّاْكُلُ مِنْهَا ۭ وَقَالَ الظّٰلِمُوْنَ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ۝

او وایي (کُفّار) چې څه دي دغه رسول ته چې خوري طعام، او ګرځي په بازارونو کې (لکه نور خلق لپاره د طلب د معاش)، ولې نه نازلاوه شي ده ته یو ملک، پس شي دغه (ملک) له دغه (رسول) سره ویروونکی (د کفّارو له جحیمه)؟. یا (ولې نه) غورځولی کیږي ده ته خزانه (له آسمانه)؟ یا (ولې نه) کیږي ده ته یو باغ چې خوري له (میوو او حاصلاتو د) هغه، او وایي (دغه) ظالمان (مؤمنانو ته) چې متابعت نه کوئ تاسې مګر د یوه سړي چې سحر پرې کړی شوی دی (او مغلوب العقل دی).

تفسیر: یعنې کفّارو به دغسې ویل کله چې دغه د نبوّت مدعي ځمونږ په شان ډوډۍ خوري، او ځمونږ په شان د بیع او شراء (پیرودلو او پلورلو) لپاره بازارونو ته ځي؛ نو ځمونږ او د ده په منځ کې څه فرق پاتې شو؟ که دی په رښتیا سره رسول وي؛ نو ښایي د پرښتو په شان له خوراکونو او له څښلو اود دنیوي معاشونو له جګړو او جنجالونو څخه لرې او خلاص وي.

یعنې که د پرښتو فوځونه ورسره نه وي؛ نو اقلاً د پاک الله له طرفه یوه دوه پرښتې خو تش د ده د تصدیق او د رُعب او داب قائمولو لپاره د ده سره تل ګرځېدی او اوسېدی، چې د هغې د لیدلو څخه به هرومرو خلق ورته متمائل کېدل، ښه که پرښتې د ده سره نشته؛ نه دې وي، خو له دې دعوی سره دا خبره متناسبه وه، چې ده اقلاً له اسمانه د سرو زرو یا سپینو زرو کومه غیبي خزانه موندلې او وررسېدلې وی، چې له هغې ځنې ده په خلاص لاس سره ښه مال او دولت صرفولی او د بازار له تګ راتګ او د معاش د تحصیل له جنجاله خلاص وی، د ګردو خلقو فکر او توجّه یې د دغې ورکړې او سخا له پلوه خپل ځان ته ورکش کړي وی، خیر ! که دغه هم ورسره نشته؛ نو د عادي مشرانو او معمولي رئیسانو او د ځمکې د خاوندانو په شان د انګورو (کورو) او خرماوو (کجورو) او د نورو میوو له باغونو څخه د یوه باغ خاوند خو وی، چې له هغه څخه یې که نورو ته څه شی نه ورکولی؛ اقلاً دی پخپله خو د خوړلو او څښلو او خپلو نورو ضروریاتو څخه بې فکره او بې پروا کېدی، نو هر کله چې له دغو ګردو شیانو څخه د هیڅ یو څیز مالک نه دی نو څرنګه باور او یقین کولی شو مونږ پری چې دالله تعالی رسول دي، نو معلومه شوه چې دده ماغزه خراب دي او یا بل چا پرې کوډی او جادو کړي دی.

اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوْا لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ۝

وګوره (ای محمده !) څرنګه بیانوي (ترې دغه معاندان) تاته مثالونه (د شعر، سحر، کذب) پس ګمراهان شول دوی، پس طاقت نه لري دوی (حق ته د موندلو) د لارې.

تفسير: يعنې کفار کله وايي: د ده خبرې محض مفترياتې دي، کله دعوی کوي چې نه ! دی دغه خبرې له نورو څخه زده کوي، او بيا يې په خپل قالب کې اچوي، کله دوی ته مسحور وايي، کله يې ساحر بولي، کله کاهن، کله شاعر، کله يې مجنون ګڼي، دغه اضطراب او وارخطايي پخپله دغه خبره څرګندوي چې له دغو خبرو ځنې يوه خبره هم پر دوی نه منطبقه کيږي، نو ځکه د دوی فکر هم پر يوه خبره نه دی ټينګ شوی، او د الزام لګولو هيڅ يوه چاره او لاره يې نه ده موندلې، هغه کسان چې د انبياوو عليهم السلام په شان کې داسې سپين سترګي او ګستاخي او بې ادبي کوي او ګمراه کيږي؛ د دوی د هدايت په نسبت نور هيڅ توقّع او هيله نشته.

تَبٰرَكَ الَّذِيْٓ اِنْ شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّنْ ذٰلِكَ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ وَيَجْعَلْ لَّكَ قُصُوْرًا ۝۱۰

ډېر لوی برکتناک څښتن (خاوند) د ډېر خير او پورته دی هغه (ذات) که اراده وفرمايي؛ ګرځوي به تاته (په دنيا کې) خير بهتر غوره له دغې (خزانې او باغونو، داسې) باغونه چې بهيږي له لاندې (دو نو) د هغو ويالې، او ګرځوي به تاته (په دغو باغونو کې) بنګلي.

تفسير: يعنې د الله تعالی په خزانه کې هيڅ تقليل او کمی نشته، که الله جل جلاله اراده وفرمايي، يو باغ څه شی دی، ډېر زيات باغونه به له دغو اوصافو او صفاتو څخه لا نبه درعنايت کړي، چې دغه خلق د هغه مطالبه کوي، بلکه الله تعالی پر دې هم قادر دی، چې د آخرت هغه ګرد باغونه او نهرونه او حور او قصور اونور چې درکول کيږي؛ همدلته درعطاء کړي، ليکن د الله تعالی حکمت بالفعل د دې خبرې مقتضي نه دی، ځکه که د دغو معاندينو هم دغه ګردې غوښتنې او فرمايشونه هم پوره او تکميل کړل شي؛ خو بيا هم دوی د حق منونکي او د صداقت قبلوونکي نه دي، باقي د رسول الله صلی الله عليه وسلم د صداقت د تثبيت لپاره هغه دلائل او معجزات چې دروړاندې کړی شوي؛ هغه کافي دي.

بَلْ كَذَّبُوْا بِالسَّاعَةِ ۣ وَاَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِيْرًا ۝۱۱

بلکه نسبت د دروغو کوي (کفّار) په قيامت باندې (چې نشته)، او تيار کړی دی مونږ لپاره د هغه چا چې نسبت د دروغو کوي په قيامت باندې سخت اور (د دوزخ).

تفسير: يعنې دغه خلق چې د هغو شيانو مطالبه کوي؛ هغه في الحقيقت د حق د طلب په نيت نه دي، بلکه محض د شرارت لپاره داسې کوي، او د دوی د دې شرارت سبب دا دی چې هغوی تر اوسه پورې په قيامت او د قيامت په سزا او جزا يقين او باور نه لري، نو دوی دې دغه خبره نبه په ياد ولري، چې د دوی له دغه تکذيبه څخه هيڅ شی نه جوړيږي، او قيامت خامخا راتلونکی دی، او د مکذبينو لپاره هغه د اور بنديخانه چې لا له پخوا څخه تياره کړی شوې ده؛ دوی خامخا په همغې کې لويدونکي دي.

اِذَا رَاَتْهُمْ مِّنْ مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ سَمِعُوْا لَهَا تَغَيُّظًا وَّزَفِيْرًا ۝۱۲

کله چې ووينې (دغه اور) دوی له هغه ځآی لرې؛ نو اوري به دوی (دغه اور) لره خوټکېدل (له ډېره قهره) او غورېدل (له ډېره غضبه).

تفسير: يعنې د دوزخ اور په محشر کې کله چې جهنّميان له لرې څخه ووينې؛ په ډېر جوش او خروش راځي، د هغه له غضبناکو غږونو او خوفناکو نارو سورو او بدرنګه خوټکېدلو څخه د ډېرو زورورو مېړو او زړه ورو سړيو تريخي چوي، او لړمون خوړينې کيږي.

وَإِذَآ أُلْقُوا۟ مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِينَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُورًا ﴿١٣﴾

او کله چې وغورځولی شي (کفّار) له دوزخ نه په ځای تنګ کې، په دغه حال کې چې (څو تنه یو ځای سره نژدې په ځنځیرو) سره تړلي شوي وي؛ نو په دغه ځای بولي دوی هلاک (خپل)، د هلاکت غوښتلو چیغې به وهي.

تفسیر: یعنې په دوزخ کې به د هر مجرم لپاره ځان ته ځای وي، چې له هغه ځخه به له سره نشي خوځېدی، او د یوه نوعیت څو څو مجرمان به په یوه ځنځیر کې سره تړل کیږي، په دغه وخت کې به مجرمین د مصیبت او عذاب له وېرې مړګ ته نارې وهي، چې کاشکې مرګی راشي، او مونږ ته له دغو مصائبو او بلیّاتو ځخه نجات راکړي.

(نو وبه ویل شي دغو کفّارو ته له جانبه د الله تعالی جل وعلا شأنُه وعظم برهانُه داسې چې:)

لَّا تَدْعُوا۟ ٱلْيَوْمَ ثُبُورًا وَٰحِدًا وَٱدْعُوا۟ ثُبُورًا كَثِيرًا ﴿١٤﴾

مه غواړئ مه بولئ تاسې نن ورځ هلاکت یو، او وبولئ تاسې هلاکتونه ډېر (ځکه چې عذاب مو ډېر اقسام لري).

تفسیر: یعنې که یو کرت مړه شو، او له دغه مصیبت ځخه خلاصی ومومو؛ ځکه په هره ورځ کې له زرو کرتو ځخه زیات له مړګه بد حال راپه برخه کیږي (موضح القرآن).

قُلْ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ أَمْ جَنَّةُ ٱلْخُلْدِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ۚ كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً وَمَصِيرًا ﴿١٥﴾ لَّهُمْ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ خَٰلِدِينَ ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْـُٔولًا ﴿١٦﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) آیا دغه (خیر بهتر غوره دی) یا هغه جنّت د همېشه والي چې وعده کړی شوې وه (د دغه جنت) له پرهېزګارانو سره، چې دی (هغه جنّت په علم د الله کې) دوی ته جزاء (بدل) د عمل او ځای د ورتلو. شته دوی ته په دغه (جنّت) کې هر څه چې غواړي دوی حال دا چې تل به وي دوی په کې، دی (دخول د جنّت سره له خلوده) پر رب ستا موعوده (وعده کړی شوې تفضّلا له جانبه د الله) غوښتلی شوی (له جانبه د مؤمنانو).

تفسیر: یعنې د مکذبینو انجام مو واورېد، اوس تاسې پخپله د دغې خبرې فیصله وکړئ، چې آیا دغه موخوښ او پسند دی؟ که هغه وعده چې له متّقینو مؤمنینو سره له جانبه د الله تعالی کړی شوې ده؟ (او غوښتلې شوې ده له جانبه د مؤمنانو، او مؤمنان به هم) همغه شی غواړي چې د دوی له مرتبې سره وړ، لایق او مناسب وي.

له ﴿وَعْدًا مَّسْـُٔولًا﴾ ځخه حتمي وعده مراده ده، چې الله تعالی هغه پخپل فضل او کرم سره پخپله ذمه اخیستې ده، یا دا مطلب چې متّقین به د هغې وعدې د ایفاء سوال وکړي، چې یقیناً به پوره کیږي، لکه چې په دعاء کې راغلي دي: ﴿رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ﴾.

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَقُولُ ءَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ عِبَادِى هَٰٓؤُلَآءِ أَمْ هُمْ ضَلُّوا۟ ٱلسَّبِيلَ ﴿١٧﴾

او (یاده کړه ای محمده هغه) ورځ چې راجمع به کړي (الله) دغه (کفّار) او هغه (باطل معبودان) چې عبادت کاوه دوی غیر له الله (هغوی ته)، پس وبه وایي (الله دغو معبودانو ته:) آیا تاسې ګمراه

کړي وو بندګان ځما دغه (چې مشرکان) دي؟ او که دوی پخپله ورکه کړې وه لاره (د حق بې له سعيې د تاسې)؟.

تفسير: يعنې دغه خو عابدينو ته اورول کيږي، او بالوسيله به له معبودانو ځخه پوښتنه کيږي، چې آيا تاسې دوی ته د شرک يا د خپل عبادت دعوت او ترغيب ورکړی وو؟ يا دوی له خپله جهله او حماقته او غفلته او بې توجهۍ ځخه ګمراه شوي دي.

قَالُوا سُبْحٰنَكَ مَا كَانَ يَنْۢبَغِيْ لَنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ مِنْ دُوْنِكَ مِنْ اَوْلِيَآءَ

وبه وايي (معبودان) چې: پاکي ده تاته له شريکه او له عيوبو، نه ښايږي مونږ ته دا چې ونيسو مونږ غير له تا نه (يا الله) هيڅ دوستان.

تفسير: يعنې يا الله ! مونږ څه قوت، قدرت او مجال درلود چې ستا د مقدّس ذات ځخه په ځنګ شوي نور کسان خپل ملګري يا دوستان نيولي وي؟ بيا کله چې مونږ د خپلو نفسونو لپاره ماسوا له تا بله کومه هيله او اسره او اميد نه درلود؛ نو نورو ته به مو ولې داسې حکم ورکاوه چې راشئ مونږ خپل معبود او مقصود او حاجت ورکوونکي وګڼئ؟.

وَلٰكِنْ مَّتَّعْتَهُمْ وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى نَسُوا الذِّكْرَ ۚ وَكَانُوْا قَوْمًۢا بُوْرًا ﴿۱۸﴾

وليکن ښه معاش ورکړی وو تا (ای الله !) دوی ته او پلرونو د دوی ته، تر هغه پورې چې هېر کړ دوی پند (کتاب) ستا، او وو دوی (په حکم د تا) قوم هلاکېدونکی.

تفسير: يعنې اصل دا دی چې دغه بدبختان د خپل بد استعداد لامله د خپلو ځانونو د تباه کولو لپاره منډې وهي، او د دوی لپاره هلاکت مقدّر شوی دی، د هغو ظاهري سبب دا دی چې دوی په عيش او آرام او د غفلت په نشو کې ډوب تللي دي، او دغه ستا يادونه او تذکره هيروي، او هيڅ پند او نصيحت ته غوږ نه ږدي، او د انبياوو د هدايت او ارشاد ځخه بيخي سترګې پټوي، او پر دنيوي تمتع او منافعو مغرور شوي دي، تاسې که د خپلې مهربانۍ لامله هومره فوايد دوی ته او د دوی پلرونو او نيکونو ته ورروسوئ؛ هغومره دوی په خپل غفلت او نسيان کې ترقي کوي.

(الله تعالى جلّ و علا شأنُه وعظُم برهانُه به بيا دغو بُت پرستانو ته دغسې وفرمايي):

فَقَدْ كَذَّبُوْكُمْ بِمَا تَقُوْلُوْنَ ۙ فَمَا تَسْتَطِيْعُوْنَ صَرْفًا وَّلَا نَصْرًا ۚ وَمَنْ يَّظْلِمْ مِّنْكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِيْرًا ﴿۱۹﴾

نو په تحقيق دروغجنان کړئ (معبودانو مو) تاسې (ای مشرکانو) په هغه خبره کې چې ويله تاسې (چې دغه مو معبودان دي)، پس طاقت نه لرئ تاسې د ګرځولو د عذاب (له خپله ځانه)، او د مدد کولو (يو له بله سره)، او هر هغه چا چې ظلم وکړ له تاسې؛ وبه ځکوو مونږ هغه ته عذاب لوی.

تفسير: دغه به د الله تعالى له جانبه ارشاد وي، چې درواخلئ ! د هغو په امداد او اعانت چې تاسې اعتماد کړی وو، هغوی بالذات ستاسې د دغې ادعاء تردید او تاسې دروغجنوي، او ستاسې له دغو حرکاتو ځخه په ښکاره ډول سره د بيزاری او نفرت اظهار کوي.

﴿فَمَا تَسْتَطِيْعُوْنَ صَرْفًا وَّلَا نَصْرًا﴾ «پس طاقت نه لرئ تاسې د ګرځولو د عذاب له خپله ځانه، او نه د مدد کولو يو له بله سره»، يعنې نن نه د الله تعالى دعذاب مخه ببر ته ګرځولی شئ !، او نه د هغه احکام اړولی شئ، اونه يو له بل سره څه

مدد او مرسته کولی شئ، هر چاته چې هره سزا وررسېدونکې ده؛ هغه اوس وررسېږي، نو هغه دې هلته پروت وي، او د هغه خوند او مزه دې وڅکي !، ښايي له ظلم څخه دلته په ﴿وَمَنْ يَّظْلِمْ مِّنْكُمْ﴾ کې مراد شرک وي، او ممکن دی چې نور هر قسم ظلم او ګناه هم ترې مراد وي.

وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّآ اِنَّهُمْ لَيَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَيَمْشُوْنَ فِي الْاَسْوَاقِ ؕ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً ؕ اَتَصْبِرُوْنَ ۚ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيْرًا ﴿۲۰﴾

او نه دي ليږلي مونږ پخوا له تانه (ای محمده ! هيڅوک) له مرسلانو څخه (په هيڅ کيفيت) مګر (په دغه کيفيت سره چې) بېشکه دوی خامخا خوړل به دوی طعام، او ګرځېدل به دوی په بازارونو کې (لپاره د مطالبو خپلو)، او ګرځولي دي مونږ ځينې د تاسې د ځينو نورو لپاره آزموينښت، آيا صبر کوئ (ای اهل الابتلاء که نه؟ بلکه صبر وکړئ !)، او دی رب ستا ښه ليدونکی.

تفسير: دغه جواب شو د ﴿وَقَالُوْا مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ يَاْكُلُ الطَّعَامَ﴾ الآية ـ يعنې له تاسې څخه پخوا هومره انبياء چې د خلق الله په طرف مبعوث شوي دي؛ هغه ټول انسانان وو، او د انسانانو په شان به يې خوړل او څښل، او د خپلو ضروریاتو او د اعاشې د لوازمو لپاره به بازارونو ته هم تلل، او هغوی مې له سره د پرښتو په حيثيت نه دي ليږلي، چې د اکل او شرب او د ژوندانه له ضروریاتو څخه به مستغني وو، له دې نه معلومېږي چې د خپلو ضروریاتو لپاره بازارونو ته د نه ورتلو منشأ کبر، غرور او ځان لوی ګڼل دي، نو دغه د لويي او مشرتوب پر خلاف دی.

﴿وَجَعَلْنَا﴾ الآية ـ يعنې انبياء د دې لپاره دي؛ چې د کفّارو د کُفر، ايمان، بغاوت، او طغيان امتحان او آزموينه وکړي، او انبياء د دې لپاره دي چې د دوی د صبر، ثبات، استقامت، آزموينه او امتحان وشي، نو اوس دې وکتل شي ! چې د کفارو د دغه سفاهت او جهالت د ليدلو او د دغه طعن او تشنيع او لغو اعتراضاتو د اورېدلو په مقابل کې تاسې تر کومې اندازې پورې صبر، استقامت او استقلال څرګندولی شئ؟.

وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ نَرٰى رَبَّنَا ؕ لَقَدِ اسْتَكْبَرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيْرًا ﴿۲۱﴾

او وايي هغه کسان چې نه لري اميد د ملاقات ځمونږ (او نه مني قيامت يا نه ويريږي له عذابه ځمونږ): ولې نه نازلولی شي پر مونږ باندې پرښتې (مصدقې د رسول يا چې شي رسولانې مونږ ته؟) يا ولې نه وينو مونږ رب خپل (چې خبرې راسره وکړي او حکم ورکړي مونږ ته په متابعت د رسول، نو الله فرمايي) خامخا په تحقيق کبر کړی دی (کبر چې ثابت دی) په نفسونو د دوی کې، او تېر شوي دي (له حده خپله) په تېرېدلو لويو سره.

تفسير: يعنې هغه کسان چې داسې اميد نه لري چې يوه ورځ به ځمونږ په مخ کې د حساب او کتاب لپاره حاضريږي، نو هغوی د سزا له وېرې بيخي بې خوفه دي، او داسې د عناد او ګستاخۍ خبرې کوي، او چټې (بېکاره) وييږي، مثلا وايي چې: د محمد په شان پر مونږ ولې پرښتې وحي نه راوړي؟ يا پخپله الله تعالى ولې له مونږه سره خبرې نه کوي؟ يا اقلا د تصديق لپاره خو يوه پرښته راغلې وی؟ يا مونږ پخپلو سترګو سره ښايي الله وينو، او په خپلو غوږونو سره ستا د دغې دعوی تصديق او تأييد ترې واورو، لکه چې د ۸ جزء د «الأنعام» سورت په (۱۵) رکوع (۱۲۴) آيت کې راغلي دي: ﴿قَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ حَتّٰى نُؤْتٰى مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ رُسُلُ اللّٰهِ﴾ او په ۱۵ جزء د «الاسراء» سورت په (۱۰) رکوع (۹۲) ايت کې مرقوم دي: ﴿اَوْ تَاْتِيَ بِاللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ قَبِيْلًا﴾.

دوی په خپلو زړونو کې خپل ځان ډېر لوی ګڼي؛ نو ځکه د وحي او پرښتو د نزول تمنّا لري، د دوی شرارت او سرکشي خپلې انتهايي درجې ته رسېدلې ده، چې سره له دومره سختو ګناهونو او تورو عملنامو غواړي چې په دنیا کې پخپلو سترګو سره الله تعالی وويني، او له هغه سره د غږېدلو شرف ځان ته مطالبه کړي.

يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ لَا بُشْرٰى يَوْمَئِذٍ لِّلْمُجْرِمِيْنَ وَيَقُوْلُوْنَ حِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿۲۲﴾

(یاد کړه ای محمده !) هغه ورځ چې وويني دوی پرښتې (د عذاب)؛ نه به وي زېرې (خوشالي) په دغه ورځ کې لپاره د مجرمانو (کافرانو)، او وبه وايي دوی چې: چېرې دې منع کړل شي په کوم مانع سره.

تفسير: ﴿حِجْرًا﴾ په معنی د منع ده، او ﴿مَّحْجُوْرًا﴾ يې تأکيد دی، معنی يې داسې شوه: «او وبه وايي دغه کفّار چې منع غواړو ټينګه منع له ليدلو د ملائکو د عذابه، او پناه نيسو په الله تعالی پورې له ملاقاته د ملائکو په منع د مانع سره»، يا به يې معنی داسې وي: «او وبه وايي دغه ملائک دغو کفّارو ته چې حرام دی يا حرام کړی شوی دی پر تاسې جنّت او منع دی په مانع سره»، او لنډ مطلب يې داسې شو چې: ای کفارو ! يوه داسې ورځ هم راتلونکې ده چې ستاسې سترګې به په پرښتو ولګيږي، مګر پرښتې به ستاسې په شان د مجرمانو له ليدلو څخه نه خوښيږي، بلکه تاسې به له ډېرو سختو هولناکو مصائبو سره مخامخ کېږئ، دغه خلق چې اوس د پرښتو د نزول مطالبې کوي، په هغه وخت کې به د ﴿حِجْرًا مَّحْجُوْرًا﴾ په ويلو پناه غواړي.

تنبيه: ممکن دي چې دغه تذکره د احتضار او ځنګدن (موت) په وخت کې وي، لکه په (۱۰) جزء د «الأنفال» سورت په (۷) رکوع (۵۰) آيت کې راغلي دي: ﴿وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ يَتَوَفَّى الَّذِيْنَ كَفَرُوا الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ﴾، او په ۷ جزء د «الأنعام» سورت په (۱۱) رکوع (۹۳) آيت کې راغلی دی: ﴿وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ اَخْرِجُوْٓا اَنْفُسَكُمْ اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ﴾ ګواکې همدغه کيفيت به د ده په مقابل کې هم وي، چې د حم السجده سورت په (۴) رکوع (۳۰) آيت (۲۴) جزء کې بيان شوی دی: ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ﴾ او ممکن دي چې دلته د قيامت د ورځې ذکر وي، والله أعلم.

وَقَدِمْنَآ اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا ﴿۲۳﴾

او اراده کړې ده، رسېدلي يو مونږ هغو شيانو ته چې کړي دي (دغو کفّارو) له (نېک) عمل نه پس وبه ګرځوو مونږ هغه (نېک عمل په شان د) ذراتو د ګرد خورې شوې (ګرد تار په تار کړی شوې).

تفسير: يعنې دوی مونږ ته نارې وهلې، او مونږ يې په کار وو، دغه دی مونږ ور حاضر شو، مګر د دوی د عزّت د زيادت لپاره نه بلکه د دې لپاره چې هغه کارونه چې دوی پخپل باطل زعم سره نېکی ګڼلې؛ هغه ورته قطعًا ګډوډ او خراب تراب کړو، او داسې بې حقيقته او بې ثمره او د وړې په شان يې په هوا کې والوځوو، لکه چې د خاورې حقير ذرات دی دا خوا او هغه خوا الوځي، ځکه چې هغه اعمال د اخلاص او ايمان له روحه بيخي تش او د حق له طريقه سره بالکل متضادّ واقع شوي دي، لکه څنګه چې د ۱۳ جزء د ابراهيم سورت د (۳) رکوع په (۱۸) آيت کې راغلي دي: ﴿مَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ اَعْمَالُهُمْ كَرَمَادِ ِاشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيْحُ فِيْ يَوْمٍ عَاصِفٍ﴾.

اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَّاَحْسَنُ مَقِيْلًا ﴿۲۴﴾

صاحبان (ملګري) د جنّت په دغه ورځ (د قيامت کې به بهتر غوره) وي له جهته د (ځای د قيام او کلام او) هستوګنې، او ډېر ښه به وي له جهته (د ځای) د خوب د غرمې (او د راحت).

تفسير: يعنې دغه منکران به د هغې ورځې په مصيبت کې ګرفتار او اخته کيږي، چې اوس دوی پر مؤمنانو ملنډې (خندا) وهي، او مسخرې پرې کوي، نو پر دغو مؤمنانو چې دوی خاندي؛ هغوی به په جنت کې عيش او عشرت او مزې کوي.

وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ وَنُزِّلَ الْمَلٰٓئِكَةُ تَنْزِيلًا ﴿٢٥﴾

او (ياد کړه ای محمده !) هغه ورځ (د قيامت) چې ټوټې ټوټې به شي اسمان په ورېځو سره، او نازلې به کړی شي پرښتې په نازلولو سره (پرله پسې).

تفسير: په دې آيت کې د قيامت د ورځې د ځينو سختو حالاتو يادونه شوېده، الله تعالى به د اسمانونو له پاسه د ورېځو په سيورو کې راښکته شي، چې اسمانونه به له هغې لامله وچوي، او ملائکې به هم د هر يو اسمان څخه وار په وار د محشر ميدان په لور راښکته شي، الله تعالى به د بندګانو په منځ کې د عدل فيصله وکړي، په هيڅا به هيڅ راز ظلم نه کيږي، په احاديثو کې د دې واقعاتو مفصل بيان شوی دی، په (٢) جزء د البقره سورت د (٢٥) رکوع د (٢١٠) آيت په تفسير کې هم داسې يو مضمون ليکلی شوی دی: ﴿هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيَهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ﴾ الآية.

اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذِ ِالْحَقُّ لِلرَّحْمٰنِ ۭ وَكَانَ يَوْمًا عَلَى الْكٰفِرِيْنَ عَسِيْرًا ﴿٢٦﴾

ملک (او کامل سلطنت) په دغه ورځ (د قيامت کې) حق ثابت دی لپاره د رحمن، او وي به دغه ورځ (د قيامت) پر کفّارو ډېره سخته.

تفسير: يعنې ظاهرًا او باطنًا صورةً او معنىً من کلّ الوجوه يواځې د هم ده «رحمان» سلطنت او حکومت به وي، او صرف د هم ده حکم به چليږي: ﴿لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۭ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ (٢٤ جزء د المؤمن سورت (٢) رکوع (١٦) آيت)، بيا کله چې د «رحمان» حکومت شو، هغه کسان چې د رحمت مستحقان وي؛ نو هغوی ته به د رحمت څه کمی وي، دوی به په بې حسابه نعمتونو سره د مرحمت مورد ګرځي، مګر سره له دومره زيات او لامحدود رحمت کفّارو ته به په دغه ورځ کې سخت مشکلات او مصائب ور د مخه کيږي.

وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلٰي يَدَيْهِ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِيْلًا ﴿٢٧﴾

او (ياد کړه ای محمده ! هغه د قيامت) ورځ چې خوله به لګوي ظالم پر دواړو لاسونو خپلو (له ډېره غمه او افسوسه او حسرته)، وايي به (په قيامت کې): ای کاشکې نيولې مې وی له رسوله (د الله سره د نجات حقه) لاره.

تفسير: يعنې له ډېر حسرت او ندامت نه به خپلې ګوتې چيچي، او د افسوس او ارمان لاسونه به سره مړي، او په زيات تأسّف سره به وايي، چې ولې مې په دنيا کې د الله تعالى او د رسول الله أحکام ونه منل؟ او ولې د شياطين الجن والانس په خبرو وغولېدم، چې په دغه بده ورځ اخته او په راز راز مصائبو کې لتاړ شوم.

يٰوَيْلَتٰى لَيْتَنِيْ لَمْ اَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيْلًا ﴿٢٨﴾

ای هلاکه ای عذابه ای خرابی ځما (راشه دغه دې وخت دی) کاشکې نه مې وی نيولی فلانکې سړی دوست خپل.

تفسير: يعني د هغو كسانو د دوستۍ يا اغواء څخه چې ګمراه شوي وو، يا په ګمراهۍ کې يې ترقي کړې وه؛ نو په هغه وخت کې به ډېر افسوس او ارمان کوي، چې ولې مو داسې کسان خپل دوستان ګڼل، کاشکې ځما او د دوی په منځ کې له سره دوستي او رفاقت نه وی پيدا شوی.

تنبيه: مفسّرينو چې دلته د عُقبه بن أبي معيط او د أبي بن خلف کومه واقعه نقل کړې ده، د هغې هيڅ ضرورت نشته، او نه ښايي چې د آيت مدلول پر هغه مقصور کړی شي، هو ! دغه تقرير چې مونږ کړی دی، په هغه کې دوی هم داخل دي.

لَقَدْ أَضَلَّنِي عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَاءَنِي ۗ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِلْإِنسَانِ خَذُولًا ﴿٢٩﴾

خامخا په تحقيق ګمراه کړی (يې) وم زه له ذکره پند (د قرآن) وروسته له هغه کله چې راغی ماته (دغه ذکر، نو فرمايي الله) او دی شيطان لپاره د انسان لغزوونکی غولوونکی.

تفسير: يعني د رسول الله صلى الله عليه وسلّم پند مونږ ته رسېدلی وو، چې ځمونږ د هدايت لپاره کافي وو، او ممکن وو چې هغه ځما په زړه کې ځای هم نيولی وی، مګر د دغه کمبخت د دوستۍ لامله زه تباه او برباد شوم، او له زه هغه لوري ته متوجه نشوم، بېشکه چې جنّي او انسي شيطان لوی چلباز او ټګ دی، انسان ته په عين وخت کې فريب ورکوي، او په ډېر بد صورت يې رسوا او مسخره کوي.

وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَٰذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورًا ﴿٣٠﴾

او ويل رسول (د الله محمد) ای ربه ځما ! په تحقيق قوم ځما نيولی دی دغه قرآن ترک کړی شوی (چې نه پرې ايمان راوړي، او نه پرې عمل کوي، او نه يې لولي).

تفسير: يعني کله چې ضد کوونکيو او معاندانو په هيڅ صورت سره د هيڅا نصيحت او پند ته غوږ نه کېښود؛ دلته رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله تعالى دربار ته شکايت وکړ، چې يا اله العالمينه ! ځما قوم ځما خبرې ته غوږ نه ږدي، دوی د قرآن عظيم الشأن په شان يو لوی کتاب ته خراب نسبتونه کوي، (العياذ بالله) کله چې قرآن لوستل کيږي؛ نو دوی ډېر زيات شورماشور لګوي، او چتې خبرې اترې کوي، او لويه غلغله نښلوي، څو يې هيڅوک وانه وري، او په مطلب يې پوه نشي، په دې ترتيب دغو اشقياوو دغه پاک قرآن په شان يو د قدر قابل کتاب يې بالکل متروک او مهجور ګرځولی دی، او له اعتناء او التفاته يې غورځولی دی.

تنبيه: اګر که په دغه آيت کې صرف د کفّارو ذکر دی، خو بيا د قرآن نه تصديقول په هغه کې عدم تدبّر او غور نه کول د ده پر احکامو عمل نه کول، د تلاوت څخه غاړه غړول، د ده د قرائت د تصحيح په طرف نه متوجه کېدل، له هغه ځنې اعراض او څنګ کول او د نورو لغويّاتو يا حقيرو شيانو په طرف متوجّه کېدل؛ دغه ټول صورتونه درجه په درجه د پاک قرآن د هجران لاندې داخل کېدی شي.

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِينَ ۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيًا وَنَصِيرًا ﴿٣١﴾

او همداسې (لکه چې کفّار مې ستا اعداء ګرځولي دي؟) ګرځولی وو مونږ (پخوا له تانه) لپاره د هر نبي دښمنان له مجرمانو ـ کفّارو، نو صبر وکړه په شان د نورو انبياوو، بس) او کافي دی رب ستا سمه صافه لار ښوونکی او ښه مدد کوونکی (پر اعداوو).

تفسير: يعنې هغه کسان چې د انبياوو د خبرو په منلو کې مشکلات او موانع وړاندې کوي، او خلق د حق له قبوله منع کوي، همدوی د انبياوو اعداء دي، نو دغه اعداء چې کفّار دي، اګر که د خلقو پر ضلالت او ګمراه کولو پسې خپلې ملاوې وترې، څه مهم موفقيت يې نه په برخه کيږی، ځکه د هر چا په نسبت چې الله تعالی داسې اراده وفرمايي چې هدايت ومومي؛ هدايت ور په برخه کوي، يا يې دا مطلب چې د هر چا د هدايت اراده چې پاک الله وکړي؛ هدايت ور په برخه کوي، او د هغو په برخه کې چې هدايت نه وي؛ د هغو ټولو په مقابل کې الله تعالی له تاسره معاونت او مرسته کوي، يا دا چې الله تعالی ستا مدد کوي، او د مطلوب تر مقام پورې به دې رسوي، او هيڅ سد او مانع ستا د پرمختګ مخه نشي نيولی.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً ۚ كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا ﴿٣٢﴾

او وايي هغه کسان چې کافران شوي دي: ولې نه نازلاوه شي پر دغه (محمد) قرآن ټول يو کرت؟ (نو فرمايي الله چې: نازل کړی دی مونږ) همداسې (لږ لږ د څو فوائدو لپاره چې يوه يې دا ده) چې: ثابت محکم قوي کړو په دغه (قرآن سره) زړه ستا (په حفظ او فهم د معنی د ده سره)، او لوستلی دی مونږ دغه (قرآن پر تا) لږ لږ په آرام لوستلو سره.

تفسير: يعنې د نبي الله دښمنان د خلقو د ګمراه کولو لپاره داسې تنقيدات او اعتراضات کوي، چې خانه ! ولې د نورو اسماني کتابونو په شان قرآنکريم هم يو ځلې په کامل ډول سره نه نازليږي؟ علّت يې څه دی؟ آيا الله تعالی په کې څه غور او دقّت کوي؟ له دې نه خو داسې شبهې او اندښنې پيدا کيږي، چې ګواکې پخپله محمد صلی الله عليه وسلم په ډېر فکر او اندښنه سره دغه جوړوي، او بيا يې په مناسبه موقع کې لږ لږ اوروي، نو د دغو منکرينو ځواب داسې ورکړ شو: چې دغه خو کومه ضروري خبره نه ده، چې قرآن عظيم الشأن د لږ لږ نازلېدو سبب همدغه وي چې تاسې يې وايئ، نو که لږ څه غور او فکر وکړئ؛ د قرآنکريم په دغه لږ لږ نازلولو کې ډېرې فائدې دي، مثلاً په دغه صورت کې د قرآن مجيد حفظ او يادول ډېر زيات آسانيږي، او په پوهېدلو کې زيات سهولت واقع کيږي، د هر ضرورت په وخت کې د هرې خبرې د ځواب رارسېدلو څخه د رسول الله صلی الله عليه وسلم او مسلمانانو قلوبو ته ارامتيا او تسکين ور په برخه کيږي، او د هر يوه آيت پر نزول ګواکې د ده د اعجاز د دعوی تجديد کيږي، په دغه سلسله کې د جبريل عليه السلام څو څو کرته تلل او راتلل هم واقع کيږي، چې هغه في ذاته يو مستقل خير او برکت دی، وغير ذلک من الفوائد؛ د همدغو فوائدو له منځه دلته د ځينو په نسبت اشاره فرمايلې شوې ده.

وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَاكَ بِالْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا ﴿٣٣﴾

او نه کوي دوی راتله تاته کوم مثل (يعنې نه راوړي تاته سوال عجيب په ابطال د دين ستا؛) مګر راوړو مونږ تاته (جواب د هغه په واقع او) په حق سره او ډېر ښه تفسير بيان.

تفسير: يعنې کله چې کفار کوم اعتراض پر قرآن يا پر کوم مثال پر تاسې کوي؛ نو عظيم الشأن قرآن د هغه ځواب په ډېر صاف او ښکاره ډول ورکوي، چې په هغه کې هيڅ شان وړاندې وروسته او لاندې باندې نشته، بلکه صاف، واضح، معتدل، او بې غل او بې غش خبره وي، هو ! د هغو کسانو عقل، سد (هوش)، او پوهه چې منعکس او منقلب وي؛ نو هغوی سمې صافې خبرې هم کړوي، او له هغه څخه نور غير مطلوب تعبيرات راکاږي، نو داسې مغرضانه او معاندانه خبرې بېلې دي، او د داسې خلقو آخره خاتمه دغه ده چې پخپله پاک الله يې په دې وروستي آيت کې بيان فرمايي:

الَّذِينَ يُحْشَرُونَ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ ۚ أُولَٰئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٣٤﴾

(دوی) هغه کسان (دي) چې جمع به کړی شي، او شړلی به شي پر مخو خپلو (سرښکته پښې پورته) طرف د دوزخ ته، دغه ټولی بد دی له جهته د ځایه، او ډېر ښوییدلی دی له جهته د لارې، او ډېر ګمراهان دي.

تفسیر: یعنې دوی همغه خلق دي چې د دوی عقل منقلب او چپه (الټه) شوی دی، علویات یې پریښي، په سفلیه وو غوښتنو پسې ګرځي او متمائل دي، وروسته له دې نه پر داسې څو اقوامو باندې چې څه وقائع او مصائب پېښې او پر هغوی څه حالات چې واقع شوي وو؛ هغه د نورو د عبرت او نصیحت لپاره بیانوي:

وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَجَعَلْنَا مَعَهُ أَخَاهُ هَارُونَ وَزِيرًا ﴿٣٥﴾ فَقُلْنَا اذْهَبَا إِلَى الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۚ فَدَمَّرْنَاهُمْ تَدْمِيرًا ﴿٣٦﴾ وَقَوْمَ نُوحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا الرُّسُلَ أَغْرَقْنَاهُمْ وَجَعَلْنَاهُمْ لِلنَّاسِ آيَةً ۖ وَأَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٣٧﴾ وَعَادًا وَثَمُودَ وَأَصْحَابَ الرَّسِّ وَقُرُونًا بَيْنَ ذَٰلِكَ كَثِيرًا ﴿٣٨﴾ وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ الْأَمْثَالَ ۖ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيرًا ﴿٣٩﴾

او خامخا په تحقیق ورکړی وو مونږ موسی ته کتاب (تورات) او ګرځولی وو مونږ له دغه (موسی) سره ورور د ده هارون وزیر (مددګار). پس وویل مونږ (دوی ته چې) لاړ شئ دواړه هغه قوم ته چې دروغجن یې شمیرلي دي آیتونه ځمونږ (نو دوی ورغلل، او ابلاغ یې وکړ، او فرعونیانو دوی دروغجنان وشمېرل)؛ پس هلاک کړل مونږ فرعونیان په هلاکولو سره. او (هلاک کړي وو مونږ) قوم د نوح، کله چې دروغ وشمېرل دوی رسولان خپل؛ غرق کړل مونږ دوی، او وګرځول مونږ دوی لپاره د خلقو دلیل (نښه د عبرت)، او تیار کړی دی مونږ لپاره د ظالمانو عذاب ډېر دردناک. او (هلاک کړل مونږ) عادیان او ثمودیان، او صاحبان د کوهي، او نور اهل د زمانو په منځ د دوی کې ډېر. او هر یو له دې نه بیان کړي وو مونږ ده ته مثالونه (د عبرت په اقامت د حجّت په دوی باندې)، او ټول مو هلاک کړل په هلاکولو سره.

تفسیر: یعنې هغو تکوینیه وو آیتونو ته چې د الله تعالی پر توحید او نورو باندې یې دلالت کوه، او د پخوانیو انبیاوو هغو متفقو بیاناتو ته چې د هغو لرې او ډېرې مذاکرې او خبرې له پخوا راهیسې دوام لري؛ دوی د دروغو نسبت وکړ، او د الوهیت په دعوی پسې یې خوله وپرانیسته.

﴿وَقَوْمَ نُوحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا الرُّسُلَ﴾: «او هلاک کړی وو مونږ قوم د نوح کله چې دروغجن وشمېرل دوی رسولان خپل»، د یوه نبي دروغجن ګڼل د ګردو انبیاوو د دروغجن شمېرلو په منزله دی، ځکه چې د دین په اصولو کې ګرد انبیاء سره متحد او متفق دي.

﴿أَصْحَابَ الرَّسِّ﴾ (کوهي والا) څوک دي؟ په دغه کې ډېر اختلاف شته، په «روح المعاني» کې یې ډېر اقوال نقل کړي دي، په پای (آخر) کې لیکي: «خلاصه یې داده چې: دوی دغسې یو قوم وو چې د خپل نبی د تکذیب په سبب هلاک شوي دي»، والله أعلم.

وَلَقَدْ أَتَوْا عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِي أُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِ ۚ أَفَلَمْ يَكُونُوا يَرَوْنَهَا ۚ بَلْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ نُشُورًا ﴿٤٠﴾

او خامخا په تحقیق تېر شوي دي (تیریږي ډېر ځلي کفّار) پر قریو کلیو ښارونو هغو چې ورولی

شوي وو پرې باران د بدۍ (د عذاب)، آيا پس نه وو دغه (کفّار) چې ليدلي يې وی هغه (قريه چې عبرت به يې اخيستی وی)، بلکه وو دوی چې نه به يې درلود (لرلو) اميد د بيا ژوندي پورته کېدلو.

تفسير: يعنې د لوط عليه السلام د قوم د کليو پر هغو کنډوالو او مخروبه ځايونو مکي والا د شام د سفر په وخت کې تيريږي؛ نو آيا دغو منکرينو هغه کنډوالې او خرابې مېنې د عبرت په سترګو نه دي کتلې؟ بلکه کتلې يې دي، او په دې ښه پوهيږي او خبردار دي چې د پخوانيو مکذبينو پای او انجام ډېر خراب وو، خو ترې نه منتبه کيږي، ځکه چې په دوی کې عبرت له کومه کيږي، کله چې د دوی په نزد له سره دغه احتمال هم نشته، چې وروسته له مرګه بيا ژوندي راپاڅېدل او د الله تعالی په مخ کې حاضرېدل شته؛ عبرت خو هم هغه حاصلوي چې د هغه په زړه کې لږ څه وېره وي، او د خاتمې او انجام څخه بيخي بې فکره نه وي.

وَإِذَا رَأَوْكَ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا الَّذِي بَعَثَ اللَّهُ رَسُولًا ﴿٤١﴾ إِن كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ آلِهَتِنَا لَوْلَا أَن صَبَرْنَا عَلَيْهَا ۚ وَسَوْفَ يَعْلَمُونَ حِينَ يَرَوْنَ الْعَذَابَ مَنْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾

او کله چې ووينې دوی تا؛ نو نه نيسي دوی تا مګر ځای د مسخرې (او تمسخرًا سره وايي): آيا دغه هغه (سړی) دی چې رالېږلی دی الله رسول (مونږ ته؟، بلکه دی خو له رسالت څخه ډېر لرې دی). بېشکه چې دی نژدې وو چې خامخا ګمراه کړي او ګرځولي يې وی مونږ له معبودانو ځمونږ که صبر نه وی کړی مونږ په (عبادت) د دوی، (نو فرمايي الله): او ژر به پوه شي دوی کله چې ووينې دوی عذاب (د قيامت ښکاره) چې څوک دی ډېر ګمراه له جهته د لارې.

تفسير: يعنې د عبرت حاصلولو په ځای د دوی مشغله همدا ده، چې پر نبي مسخره وکړي، لکه چې ستاسې د ليدلو په وخت کې استهزاء وايي چې: آيا دی هم هغه سړی دی چې د الله تعالی له طرفه رسول رالېږلی شوی دی؟ آيا په دغه حيثيت او وضعيت سره د رسالت منصب د چا په برخه کېدی شي؟ آيا د الله تعالی په ګردو مخلوقاتو کې همدغه يو سړی پاتې وو، چې د رسالت قابل شو؟.

نو الله تعالی جلّ وعلا شأنُه و عظُم برهانُه د دوی د دغه تمسخُر او استهزاء او ملنډو په مقابله کې داسې فرمايي: ﴿وَسَوْفَ يَعْلَمُونَ حِينَ يَرَوْنَ الْعَذَابَ مَنْ أَضَلُّ سَبِيلًا﴾ يعنې کله چې دوی د الله تعالی عذاب په خپلو سترګو سره وګوري؛ نو هلته به ورته معلوم شي چې په واقع سره کوم يو ګمراه وو؟.

أَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ ۖ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ﴿٤٣﴾

آيا وينې، خبر يې ته (بلکه خبر يې) په هغه چا چې نيولی يې دی دغه معبود خپل خواهش (د نفس خپل)؟ آيا پس ته به يې په ده باندې وکيل (ساتونکی چې منع يې کړې له خواهش خپل، بلکه نه يې).

تفسير: يعنې آيا تاسې د داسې خواهش پرستانو د هدايت پر لارې د راوستلو ذمه واري کولی شئ، چې د دوی معبودان هم د دوی په خوښه او انتخاب وي، هر چېرې چې د دوی غوښتنه او خواهش دوی بوځي؛ په هم هغه طرف دوی متمائل کيږي، هره هغه خبره چې د دوی د خواهش سره موافقه وي؛ هغه مني، او هر څيز چې د دوی د طبعې څخه مخالف وي، هغه پرېږدي، نن چې يوه تيره (ګټه) د دوی په نظر کې ښه ښکاره شوه، د هغې په عبادت کې مشغوليږي، سبا چې بله کومه تيره د دوی په سترګو ښه وبرېښېده؛ نو هغه پرېږدي او دې ته سجدې وږدي.

أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ ۖ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٤﴾

آيا ګمان کوې ته چې په تحقيق اکثر د دوی اوري يا عقل چلوي (پوهيږي)؟ نه دي دوی مګر په شان د چارپايانو دي (په پند نه اورېدلو کې)، بلکه لا دوی ډېر لرې دي له لارې (د صواب نه).

تفسير: يعنې په هر ډول سره چې دوی ته پندونه او نصائح واوروئ؛ دوی خو ځلورېولي حيوانات دي، بلکه له هغوی ځنې هم بدتر او خراب دي، دوی له پوهېدلو او اورېدلو سره هيڅ علاقه او ارتباط نه لري، ځاروی او حيوان هم په هر حال د خپل پالونکي او بادار په مقابل کې خپله غاړه ښکته کوي، او خپل محسن پېژني، او في الجمله نافع له مضر ځخه بېلوي، که يې سر خوشی پرېږدې؛ د څړځاي (چراه ګاه) او د اوبو ځښلو ګودر ته پخپله ځي، ليکن د دغو بدبختانو حال داسې دی چې نه د خپل خالق او رازق حق پېژني، او نه د ده پر ښېګڼو (فائدو) او احساناتو پوهيږي، او نه يې قدر او عزت کوي، د ښو او بدو په منځ کې د فرق او تميز کولو ځخه عاجز دی، د دوست او د ښمن په منځ کې امتياز نشي کولی، نه په روحاني غـذاء پسې او نه د هدايت د چينې په لوري يو قدم وړاندې تلی شي.

أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ ۖ وَلَوْ شَاءَ لَجَعَلَهُ سَاكِنًا ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيلًا ﴿٤٥﴾ ثُمَّ قَبَضْنَاهُ إِلَيْنَا قَبْضًا يَسِيرًا ﴿٤٦﴾

آيا نه دي کتلي تا (قدرت د) رب خپل ته چې څرنګه يې غځولی دی سيوری، او که يې اراده يې فرمايلې وی؛ نو خامخا ګرځولی به يې وو هغه (سيوری) ولاړ، بيا وګرځاوه مونږ لمر په دې (سيوري) دليل (چې سيوری پرې معلوميږي). بيا راټول کړو مونږ هغه ځان خپل ته په راټولولو آسانو سره (ورو ورو لږ لږ).

تفسير: له سپېده داغه (صبح کاذبه) تر لمر څرېکې پورې هر چېرې سيوری وي، که الله تعالی داسې اراده فرمايلې وی؛ چې لمر ونه خيژي؛ نو همدغه سيوری به قائم پاتې کېده، مګر الله تعالی پخپل کامل قدرت سره لمر طالع کړ، چې د هغه لامله د لمر د رڼا خوره کېدل شروع شو، او سيوري متدرّجًا يوه طرف ته په ځان ټولېدلو او غونډېدلو پيل (شروع) وکړ، که لمر نه وی راغلی؛ نو مونږ به د سيوري په مفهوم څرنګه پوهېدی شوی؟ ځکه چې د يوه ضد له راتګه بل ضد پېژندل کيږي: ﴿قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُمْ بِضِيَاءٍ﴾ الآية ـ (د القصص سورت (۷۱) آيت، (۷) رکوع، (۲۰) جزء).

وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِبَاسًا وَالنَّوْمَ سُبَاتًا وَجَعَلَ النَّهَارَ نُشُورًا ﴿٤٧﴾

او همدغه (الله) هغه (ذات) دی چې ګرځولې يې ده تاسې ته (په کامل قدرت خپل سره) شپه لباس (پوښاک)، او (ګرځولی يې دی تاسې ته) خوب آرامي، او ګرځولې يې ده ورځ وخت د ښورېدو او ګرځېدلو (لپاره د طلب د معاش).

تفسير: يعنې د شپې تکه توره تياره د ځادر په شان پر ګردو محيط کيږي، چې د هغه لامله ټول خلق کاروبار پرېږدي او آرام کوي، بيا د ورځې رڼا خپريږي (خوريږي)، او خلق له خوبه پاڅيږي، او دغه لوري او هغه لوري ته تګ او راتګ کوي، او همداسې د مرګې د خوب ځخه وروسته د قيامت سبا راځي، چې په هغه کې به ټول جهان بيا ژوندی راپاڅيږي، او همدغه حالت په هغه وخت کې وړاندې شوی وو، کله چې انبياء عليهم السلام د وحي او الهام په رڼا سره دنيا رڼا کړه؛ نو د جهل او غفلت په خوبونو کې د ويده وو مخلوقو سترګې هم يو ځلې وپرانستلې شوې، او ټول سره پاڅېدل.

وَهُوَ الَّذِيٓ أَرۡسَلَ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً طَهُورٗا ۝٤٨ لِّنُحۡيِيَ بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗا وَنُسۡقِيَهُۥ مِمَّا خَلَقۡنَآ أَنۡعَٰمٗا وَأَنَاسِيَ كَثِيرٗا ۝٤٩

او همدغه (الله) هغه (ذات) دی چې رالېږلي يې دي بادونه زېري کوونکي د وړاندې د رحمت د دغه (الله چې باران دی)، او نازلې کړې دي مونږ له (طرفه) د آسمانه اوبه پاکې پاکوونکي. لپاره د دې چې ژوندي کړو مونږ په دې (اوبو) ځمکه مړه وچه بې زرغونوالي وچه، او ور وڅښوو دغه (اوبه) له جملې د هغو شیانو ځنې چې پیدا کړي دي مونږ له چارپایانو او انسانو ډېرو ته.

تفسیر: یعنې ډومبی باراني هواوې د باران زېری ورکوي، بیا د اسمان له طرفه ووري، چې هغه هم پخپله پاک دی، او نور شیان هم پاکوي، د اوبو د ورېدلو ځخه وروسته په مړې تکې تورې وبجاړې ځمکې کې یو نوی روح پیدا کیږي، شینکي او نباتات یې زرغونیږي، او یوه عجیبه او غریبه نندارہ په کې ښکاري، له کوم ځای ځخه چې پخوا له وریا (باران) دوړې پورته کېدې، اوس هلته تکه شنه مرغجنه (کبل زاره) ولاړه ده، او څومره زیات حیوانات او انسانان د باران له اوبو ځنې ځښي، او تړې خړوبیږي، همداسې د قیامت په ورځ کې هم د یوه غیبي باران په ذریعه هغه مړي هم بیا ژوندي راپاڅولی کیږي، چې له خاورو سره ګډوډ شوي وي، او په دنیا کې هم هغه زړونه چې همداسې د جهل او عصیان په مرګ سره مړه شوي وو؛ د الله تعالی د وحي په اسماني وریا (باران) سره بیا راژوندي کړی شوي دي، هغه ارواح چې په نجاست او پلیتۍ کې نښتي وي؛ هغه د روحاني باران په اوبو سره وینځلي شوي دي، او ټول سره پاک او صاف شوي دي، او هغه کسان چې د معرفت او د وصول الی الله په اوبو پسې تړي دي، د هغه روحاني باران د اوبو په ځښلو سره سیراب او خړوب شوي دي.

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَٰهُ بَيۡنَهُمۡ لِيَذَّكَّرُواْ فَأَبَىٰٓ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورٗا ۝٥٠

او خامخا په تحقیق راز راز ډولونو تقسیم کړي دي مونږ دغه (اوبه د باران منشأ) په منځ د دوی کې لپاره د دې چې فکر وچلوي دوی (په کمال د قدرت ځمونږ کې)، پس منع راوړه زیاترو خلقو (د شکر ګزاری نه) لیکن (د نعمت له) کفران (ځخه یې منع رانه وړه).

تفسیر: یعنې د باران اوبه ټولو ځمکو او انسانانو ته یو برابر نه وررسیږي، بلکه چېرې ډېرې او چېرې لږې، چېرې ژر او چېرې په ځنډ (ایسارتیا)، ځرنګه چې د الله تعالی د حکمت اقتضا وي؛ هم هغسې ور رسیږي، ځو خلق وپوهیږي چې د هغه درول او ویشل د قادر مختار او د حکیم الله تعالی په قدرت دي، لیکن زیات خلق بیا هم نه پوهیږي، او د الله تعالی د نعمت شکر نه اداء کوي، بلکه بالعکس مخ په شرک، کفر او ناشکرۍ منډې وهي، هم دغسې د روحاني باران حال هم قیاس کړئ، هر چاته سم د هغه د استعداده او ظرفه سره هومره برخه چې په کار ده؛ ورسېدلې ده، او ډېر کسان د دغه عظمی نعمت په مقابل کې کُفران او ناشکري هم کوي.

وَلَوۡ شِئۡنَا لَبَعَثۡنَا فِي كُلِّ قَرۡيَةٖ نَّذِيرٗا ۝٥١ فَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَجَٰهِدۡهُم بِهِۦ جِهَادٗا كَبِيرٗا ۝٥٢

او که اراده مو فرمایلي وی؛ نو خامخا راپورته کړی به مو وی په هره قریه ښار کې (ببل ببل) ویرَوونکي(په دغه زمانه کې هم). نو مه کوه اطاعت (د غوښتنو) د کافرانو، او مجاهده مقابله کوه له دوی سره په دغـه (قـرآن او توفیق د رحمان) په جهاد لوی.

تفسیر: یعنې د انبیاوو راتلل کومه عجیبه خبره نه ده، که الله تعالی اراده وفرمایي؛ نو اوس هم ډېر انبیاء مبعوثوي، چې په هر کلي کې ببل ببل نبي وي، مګر الله ته همدغه خبره منظوره شوه؛ چې اوس دې په آخره کې د ټول جهان

لپاره يواځې همدغه محمد صلى الله عليه وسلم د سيد الانس والجان او نبي آخر الزمان په عنوان مبعوث او مرسل شي، نو تاسې د کفارو حماقت او طعنې او تشنيع او سفاهت او تنقيد او ترديد ته هيڅ توجه او التفات مه کوئ !، او د خپل دغه دعوت او تبليغ کار ته په پوره قوّت او جوش او خروش سره ادامه ورکړئ ! (جاري وساتئ)، او دغه عظيم الشأن قرآن پخپل لاس کې واخلئ !، او د دغو منکرانو مقابله په ډېر زور او مېړانه (بهادرى) سره وکړئ !، الله تعالى هرومرو برى او کامیابي ستا په برخه کوي، مونږ د «به» مرجع قرآن او توفيق «رحمان» ليکلې ده، خو نورو مفسرينو د هغه مرجع د کفّارو د اطاعت ترک يا د اسلام په مداومت يا توره سيف يا حکمت او موعظت هم اخيستې ده.

وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَّهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ۚ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَّحِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿۵۳﴾

او همدغه (الله) هغه ذات دى (چې په کامل قدرت خپل سره) خوشې کړى يې دي دوه بحرونه، سيندونه؛ چې دغه خوږ دى ډېر خوږ تنده ماتوونکى، او هغه بل تريو دى ښه تريو، او ګرځولې ده (الله) په منځ د دغو دواړو کې پرده او بند چې منع کړى شوى دى (په هغه سره اختلاط د دغو دواړو).

تفسير: په بيان القرآن کې د دوو معتبرو بنګالیو عالمانو شهادت نقل شوى دى، چې له (ارکان) څخه تر (چاتګام) پورې د سيند وضعيت داسې دى چې د دغه سيند په دواړو جانبو کې د نوعيت او کيفيت له طرفه دوه مختلف ډول سيندونه په نظر راځي، د يوه اوبه سپينې او د بل اوبه توريې دي، په تورو کې د سمندر په شان طوفاني تلاطم او تموّج واقع کيږي، او سپينې يې بيخي آرامې او ساکنې وي، ډېرى په همدغو سپينو کې چليږي، او د دواړو په منځ کې د يوه پټې او نوار په شان يوه ډېره اوږده ليکه غځېدلې ده، چې د دغو دواړو اوبو متلقى ګڼله کيږي، خلق وايي چې: سپينې اوبه خوږې او توريې اوبه ترخې دي.

يعنې د الله تعالى قدرت ته وګورئ ! چې د خوږو او ترخو اوبو د يو ځاى کېدلو په سبب چې هرومرو يو ځاى نه په يو ځاى کې سره ګډيږي، خو بيا هم دوى سره ډېلې جدا او ممتازې دي، او د دواړو په منځ کې په ډېرو ځايونو کې يې ځمکه حائله او پرده ګرځولې ده، او همداسې يې سرخوشې (آزادې) نه دي پريښې، چې د دواړو په زور او قوت سره ځمکه له منځه لرې کړه شي، او جبري ډول سره يو ځاى شي، او د ځمکې وجود له منځه ورک کړي، بيا په دغو دواړو د هر يوه خوند او مزه چې له هغو سره لازمه ده؛ هم هغه سره پاتې ده، او تريې بل ته نه ده منتقله شوې، او داسې نه دي واقع شوي چې خوږې اوبه تروې يا تروې اوبه خوږې شي، ګواکې د اوصافو په اعتبار هره يوه له بلې بيخي ډېله او جدا ده.

وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهٗ نَسَبًا وَّصِهْرًا ۭ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيْرًا ﴿۵۴﴾ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ۭ وَكَانَ الْكَافِرُ عَلٰي رَبِّهٖ ظَهِيْرًا ﴿۵۵﴾

او همدغه (الله) هغه (ذات) دى چې پيدا کړى يې دى له اوبو نه بشر انسان، پس ګرځولى يې دى (خاوند د) نسب او سخر ګڼى، او دى رب ستا ښه قادر. او عبادت کوي (دا مشرکان) بې له الله د هغه شي چې نشي رسولى هيڅ قدر نفع دوى ته (که يې عبادت وکړي)، او نه هيڅ ضرر رسولى شي دوى ته (که يې عبادت ونه کړي)، او دى (جنس د) کافر په (نافرمانى) د رب خپل مددګار (د شيطان، شا اړوونکى الله ته).

تفسير: يعنې وګورئ ! چې الله بر حق مطلق جل وعلا شأنُه وعظم برهانُه په څه شان پخپل کامل قدرت سره يې له يوه څاڅکي اوبو څخه عاقل کامل بني آدم جوړ کړی دی، بيا وروسته له دې نه نور نسلونه يې ترې ايستلي دي، د ځومانو او سخرانو تعلّقات يې ترې جوړ کړي دي، او له يوه ناڅيزه څاڅکي څخه يې څه څه شيان پيدا کړي دي، او له کومه ځايه يې ترې کوم ځايه پورې رسولي دي؟ ليکن دغه انسان په لږ مدّت کې خپل اصل هېروي، او خپل هغه قدير رب او خالق يې پريښی دی، او عاجز مخلوق ته خپل خالق وايي، نه يواځې د خپل پرودګار حق نه پېژني، بلکه له هغه څخه مخ ګرځوي، او په شيطاني فوځ کې خپل ځان داخلوي، څو د اغوا کولو ا و اضلالولو په مقاصدو کې له هغوی سره کومک او مدد وکړي، «نعوذ بالله من شُرور أنفسنا، ومن سيئات أعمالنا».

وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ٥٦ قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍ إِلَّا مَن شَآءَ أَن يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلٗا ٥٧

او نه يې لېږلی مونږ ته مګر زېری ورکوونکی (مؤمنانو ته په نعيم سره) او ويروونکی (کافرانو ته په جحيم سره). ووايه (ای محمده ! دوی ته) نه غواړم زه له تاسې په (پيغام رسونه) هيڅ قدر اجر مزدوري مګر (غواړم ايمان راوړل د) هغه چا چې خوښه يې شي دا چې ونيسي طرف د رب خپل ته لاره (د رضاء او قرب)، يا ليکن هغه څوک چې غواړي چې ونيسي خپل رب ته لاره (په انفاق د مال سره، لاره د رضا د ده؛ نو ودې نيسي رب خپل ته هم هغه لار د قرب او رضاء).

تفسير: يعنې ستاسې کار د الله تعالی پر وفاداری او اطاعت د بشاراتو اورول دي، او غدارانو ته مجرمانو ته د دوی د خرابو نتائجو او عواقبو خبرول دي، که سره له هغه يې ونه مني يا يې ومني؛ تاسې ته له هغه ځنې هيڅ نقصان نه دی عائد، تاسې له دوی نه څه اجرت او حق الزحمه خو نه غواړئ چې د هغو د نه منلو په اثر به هغه فوت شي، تاسې خو له دوی نه يواځې هم دغومره شی غواړئ: هر څوک چې غواړي د پاک الله په توفيق د خپل رب لاره ونيسي؛ نو ودې نيسي رب خپل ته هم هغه لار، زړه مو چې همدغه ته مزدوري وايئ که حق الزحمه او فيس.

وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡحَيِّ ٱلَّذِي لَا يَمُوتُ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِهِۦۚ وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا ٥٨

او توکّل وکړه په تل ژوندي ذات قائم په تدبير هغه (الله) چې (له سره) نه مري، او تسبيح ووايه سره له ثناء د ده، او بس کافي دی هغه په ګناهونو د بندګانو خپلو ښه خبردار.

تفسير: يعنې تاسې يواځې پر الله تعالی اعتماد او توکل وکړئ، او خپله فريضه چې دعوت او تبليغ او نور دي؛ په ښه شان سره اداء کړئ !، د هيڅا د مخالفت او موافقت پروا ونه کړئ !، پر فاني اشياوو به څه اعتماد او اعتبار وشي؟ اعتماد او توکّل ښايي پر هغه ذات وکړ شي چې تل ژوندی قائم په تدبير دی، او له سره نه مري، نو پر هم هغه توکل او اعتماد وکړئ !، او تل د هم هغه په حمد او ثناء مشغول او لګيا اوسئ !، دغو مجرمينو ته به پخپله الله تعالی سزا ورکړي.

إِلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۚ ٱلرَّحۡمَٰنُ فَسۡـَٔلۡ بِهِۦ خَبِيرٗا ٥٩

هغه (الله) چې پيدا کړي يې دي اسمانونه او ځمکه او هغه چې په منځ د دغو دواړو کې دي په (مقدار) د شپږو ورځو، بيا پورته او اوچت شو پر عرش باندې، (الله چې دی) ډېر مهربان دی؛ پس وپوښته (د دغه خلق او استواء يا د رحمان) له کوم ښه خبردار عالم نه.

تفسير: د «استواء على العرش» بيان د «الأعراف» په سورت کې تېر شو، هلته دې ولوستلی شي.

يعنې له هغو کسانو څخه پوښتنه وکړئ چې د الله تعالی له شان او رحمت او له ذات او صفات څخه پوره خبردار دي، دغه جاهلان مشرکان په هغه باندې څه پوهيږي ﴿وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ﴾، پخپلو صفاتو او کمالاتو باندې خو پوره عالم يوائې هم هغه الله تعالی دی: «أنت كما أثنيت على نفسك»، ليکن په مخلوقاتو کې له ټولو څخه ډېر پوه محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم دی، نو ښايي چې د الله تعالی د صفتونو پوښتنه له دوی نه وشي !.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اسْجُدُوا لِلرَّحْمَٰنِ قَالُوا وَمَا الرَّحْمَٰنُ أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُورًا ﴿٦٠﴾

او کله چې وويلی شي دوی ته چې سجده (د عبادت) کوئ «رحمان» ته؛ نو وايي: څه څيز دی «رحمان»؟ آيا سجده به کوو مونږ هر هغه څيز ته چې امر کوې ته مونږ ته، او زياتوي (دغه يادول د «رحمان») دوی ته نفرت (له ايمان نه).

تفسير: يعنې دغه جاهلان مشرکان د «رحمان» د شان له عظمته څه خبر دي؟ او څه پرې پوهيږي؟ دوی خو له دغه نوم سره دومره ښه هم نه دي، او هر کله چې دغه نوم اوري؛ نو د انتهايي جهل او بې حيايۍ او تعنّت له مخې ځانونه ناجانې او ناواقفه غورځوي، او داسې پوښتنې کوي چې «رحمان» څه شی دی؟ چې پر مونږ باندې د هغه سجده کوې؟ آيا محض ستا په وينا سره مونږ دغه خبره ومنو؟ او همدا چې ته کوم نوم ياد کړې؛ نو مونږ خامخا ورته سر په سجده ولويږو؟، الغرض هومره چې دوی ته د «رحمان» د اطاعت انقياد په لوري توجه ورکړه شي؛ هغومره دوی بد وړي، او تور ورځخه خوري.

تَبَارَكَ الَّذِي جَعَلَ فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَاجًا وَقَمَرًا مُنِيرًا ﴿٦١﴾ وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ شُكُورًا ﴿٦٢﴾

لوی برکتناک دی هغه ذات چې پيدا کړي يې دي په اسمان کې برجونه او پيدا کړې يې ده په کې ډيوه (لمر)، او سپوږمی روښانه. او همدا (الله) هغه (ذات) دی چې ګرځولې يې ده شپه او ورځ (سره مخالف يا خليفه يو د بل) پرله پسې، لپاره د هغه چا چې اراده لري د دې چې ياد کړي (نعمتونه د رب ستا، او فکر وکړي په مصنوعاتو د الله کې) يا اراده لري د شکر ايستلو.

تفسير: يعنې لوی لوی ستوري يا آسماني قلعې چې پرښتې په کې پيرې کوي، يا امکان لري چې د لمر دولس منازل ترې مراد وي، چې اهل هيئت يې بيانوي.

﴿سِرَاجًا﴾ يعنې لمر، ښايي د نور او حرارت د جمع کېدو يا د احراق د صفت لرلو له سببه يې هغه ته (ډيوه) ويلې وي: ﴿وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا﴾ (د نوح سورت (١) رکوع (١٦) آيت (٢٩) جزء).

اوږدېدلو او لنډېدلو ته يا تلو او راتلو ته يې بدلېدل، پرله پسې راتلل وفرمايل، يا يې دا مطلب دی چې يو يې د بل بدل ګرځولی دی، مثلاً که د ورځې کار پاتې شي؛ د شپې يې پوره کوي، او که د شپې کار پاتې شي؛ د ورځې يې په سر رسوي، كما ورد في الحديث، ﴿لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ شُكُورًا﴾، يعنې د لمر او سپوږمی او د نورو وړاندې وروسته ختل او د شپې او د ورځې بدلېدل، زياتېدل، او کمېدل ددې له امله واقع کيږي؛ څو د عقل او فکر خاوندان پکې غور او دقت وکړي، او ښه وپوهيږي چې دغه ټول لوی تصرفات او عظيم تقلبات دده د قدرت کارونه دي او د شپې او د ورځې دفوائدو او انعاماتو له لیدلو څخه دده عبادت او شکر ايستلو ته متوجه شي.

وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ عَلَى الْاَرْضِ هَوْنًا وَّاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ قَالُوْا سَلٰمًا ﴿٦٣﴾

او بندګان د «رحمان» هغه کسان دي چې ګرځي دوی په ځمکه باندې په ورو (په تواضع)، او کله چې خطاب کوي له دوی سره جاهلان ناپوهان؛ نو وایي (ورته په ځواب کې سلام، خبره) سالمه (له ګناه او ضرره).

تفسیر: یعنې د کم عقلو او ناپوه خلقو ځواب په عفوه او صفح سره ورکوي، کله چې څوک د جهالت خبرې او اترې وکړي؛ نو ملائمې مذاکرې او پستې خبرې ورسره کوي، او په «السلام» سره ترې ځان بېلوي، او د داسې خلقو سره حتی الامکان نه مخامخ کیږي، او نه له هغوی سره په کومه مرکه کې شاملیږي، او نه له دوی سره جنګ او جګړې کوي.

وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِيَامًا ﴿٦٤﴾

او (بندګان د رحمان) هغه کسان دي چې شپه تېروي رب خپل ته سجده کوونکي او دریدونکي.

تفسیر: یعنې د شپې له مخې چې غافل بندګان خوبونه کوي، دوی د الله جل جلاله په حضور کې ولاړ وي، او ورته سجده ږدي، او په عبادت کې یې لګیا وي، کله چې رکوع د قیام او سجدې په منځ کې واقعه ده؛ ښایي د همدې لامله د هغې ذکر یې بېل ونه فرمایه، ګواکې رکوع د دغو دواړو په منځ کې بالطبع راغله.

وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ اِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴿٦٥﴾ اِنَّهَا سَآءَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ﴿٦٦﴾

او (بندګان د رحمان) هغه کسان دي (چې سره له طاعته خضوعًا) وایي: ای ربه ځمونږ! وګرځوه له مونږ څخه عذاب د دوزخ. بېشکه عذاب د دغه (دوزخ) دی (عذاب) لازم همېشه. بېشکه چې دا (دوزخ) بد دی له جهته د ځای د قرار، او له جهته د ځای د هستوګنې.

تفسیر: یعنې سره له دومره عبادته ډېر ویریږي، داسې نه دي چې مثلاً د تهجّد لپاره چې پاڅېد، او اته رکعته لمونځ یې وکړ؛ نو د الله تعالی له عذابه او قهره بېخي بې فکره شو.

وَالَّذِيْنَ اِذَآ اَنْفَقُوْا لَمْ يُسْرِفُوْا وَلَمْ يَقْتُرُوْا وَكَانَ بَيْنَ ذٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾

او (بندګان د رحمان) هغه کسان دي کله چې نفقه ورکوي مال لګوي؛ نو نه اسراف کوي، او نه تنګي (او بخل) کوي، او وي (دغه ورکړه د دوی) په منځ د دغه (اسراف او تقتیر) کې میانه حاله.

تفسیر: یعنې زمان او مکان او موقع ته ګوري، او په معتدل او متوسط صورت سره خپل مال لګوي، نه د مال په محبت کې له حده تېریږي، او نه یې ضایع کوي، کما قال الله تعالی: ﴿وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُوْلَةً اِلٰى عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ﴾ الآیة ـ (١٥ جزء، د بني اسرائیل سورت (٣) رکوع، (٢٩) آیت).

وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ وَلَا يَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُوْنَ ۚ

او (بندګان د رحمان) هغه کسان دي چې نه بولي سره له الله معبود بل، او نه وژني دوی نفس هغه چې حرام کړي دي الله (وژل د هغه) مګر په حق سره، او نه کوي دوی زنا.

تفسير: مثلاً د عمد قتل په بدل کې وژل، يا د زنا په سزا کې د محصن زاني په ګټو سره ويشتل، يا د هغه مرتدّ وژل چې خپل اسلامي دين او ملّت پرېږدي، دغه ګرد صورتونه په ﴿إِلَّا بِالْحَقِّ﴾ کې شامل دي، كما ورد في الحديث.

وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ﴿٦٨﴾

او هر چا چې وکړه (يو له دغو دريو امهات الذنوب نه)؛ نو ملاقات به وکړي وبه ويني جزاء د ګناه خپلې.

تفسير: يعنې ډېره سخته ګناه يې کړې ده، چې د هغه سزا به هرومرو وررسيږي، په ځينو روایاتو کې راغلي دي چې: «أثام» د جهنّم د يوې کندې نوم دی، چې د هغه عذاب ډېر سخت ويروونکی بيان شوی دی، أعاذنا الله منها.

يُضٰعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا ﴿٦٩﴾

چې دوچند به کړی شي ده ته عذاب (د دوزخ) په ورځ د قيامت کې، او تل به پاتې وي په دغه (عذاب) کې په دې حال چې خوار ذليل بې اعتبار به وي.

تفسير: يعنې له نورو ګناهونو ځنې دغه ګناه لويه ده، نو د دغې عذاب به هم سخت او لوی وي، او شپه په شپه (ساعت په ساعت) لا پسې زياتيږي.

إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولٰئِكَ يُبَدِّلُ اللّٰهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُورًا رَحِيمًا ﴿٧٠﴾

مګر هغه چې توبه يې وويسته، او ايمان يې راوړ، او عمل يې وکړ عمل نېک؛ پس دغه (تائبان د دغو دريو ګناهونو چې دي) بدل به کړي الله ګناهونه د دوی په نېکيو سره (په محو د سيئاتو او ثبت د حسناتو)، او دی الله ښه مغفرت کوونکی، ډېر رحم کوونکی.

تفسير: يعنې د ګناهونو په ځای به د نېکيو توفيق ور په برخه کيږي، او د کفر ګناه به ورمعافيږي، يا دا چې د ده بدي محو او لرې کيږي، او د صالح عمل په برکت به د هغه په شمېر مناسب محاسن ورثبت فرمايي، كما يظهر من بعض الأحاديث.

وَمَنْ تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَإِنَّهُ يَتُوبُ إِلَى اللّٰهِ مَتَابًا ﴿٧١﴾

او هر څوک چې توبه وباسي (له ګناهونو نه) او عمل وکړي نېک؛ پس بېشکه چې دی رجوع کوي په طرف د الله په ښه رجوع کولو سره.

تفسير: پخوا د هغو کفّارو د ګناهونو ذکر وو، چې وروسته ايمان راوړي، دغه د هغو ګناهونو ذکر دی چې سره له اسلامه يې کوي، دغه هم کله چې توبه وکړي؛ يعنې په پوره اخلاص او صميميت سره توبه وباسي، او بيا له سره د هغه شاوخوا ته ونه ګرځي؛ نو د الله تعالى په حضور کې ځای مومي، د النساء د سورت په (١٣) رکوع کې (٩٣) آيت، دغه آيت د هغو قاتلينو په حق کې دی چې دغسې توبه يې نه وه ايستلې: ﴿وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا﴾ والله أعلم.

وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ ۙ وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا ﴿٧٢﴾

او (بندګان د رحمان) هغه کسان دي چې نه حاضريږي نه شاملېږي په باطلو کې (يا نه وايي

شاهدي په دروغو)، او کله چې تېريږي پر چټي (بېکاره) کار؛ نو تېريږي ځان ساتونکي (مخ ګرځوونکي له لغوې نه).

تفسير: يعنې نه دروغ وايي، او نه د دروغو شهادت ورکوي، او نه د باطلو چارو او د ګناهونو په مجلسونو کې حاضريږي.

وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا ﴿٧٣﴾

او (بندګان د رحمان) هغه کسان دي کله چې پند ورکړی شي دوی ته په آيتونو د رب د دوی؛ نو نه نسکوريږي پرې (لکه) کانړه او ړانده (بلکه سر په سجده ږدي اوري يې، او پرې عمل کوي).

تفسير: او په نهايت فکر، تدبّر او غوره سره يې اوري او ترې متأثر کيږي، او د مشرکانو په شان دوی د تيږي (ګټې) بُتان له خپلو ځانونو څخه نه جوړوي.

وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ

او (بندګان د رحمان) هغه کسان دي چې وايي: ای ربه ځمونږ ! وبښه مونږ ته (په فضل خپل سره) له ښځو ځمونږ څخه، او لـه اولادو ځمونږ څخه (هغه څوک چې) يخوالی د سترګو ځمونږ په کې راځي.

تفسير: يعنې داسې ښځه او واړه راعنايت وفرمايه؛ چې د هغو د ليدلو څخه ځمونږ سترګې يخې او رنې شي، او زړه مو خوشال شي، او ظاهر دی چې د کامل مؤمن زړه هلته خوښ او خوشاليږي؛ کله چې خپل آل او عيال د الله تعالى په طاعت او عبادت کې مشغول او لګيا ووينې، او ويې ګوري چې د نافع علم تحصيل کوي، نو ګرد دنيوي مسرّتونه او نعمتونه وروسته له دغه دي.

وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴿٧٤﴾

او وګرځوه مونږ لپاره د متقيانو امام پېشوا.

تفسير: يعنې داسې مو وګرځوې کله چې نور خلق پر مونږ پسې اقتداء وکړي؛ متقيان او پرهېزګاران وګرځي، حاصل يې دا چې نه يوائې مونږ پخپل ذات مهتديان شو، بلکه د نورو لپاره هم هاديان وګرځو، او ځمونږ کورنۍ په تقوى او طهارت کې ځمونږ تابعان او پيروان شي.

أُولَٰئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَامًا ﴿٧٥﴾

دغه کسان (موصوف په دغو صفاتو سره) جزا به ورکوله شي دوی ته په هسکو (اوچتو) مانيو (د جنت) په سبب د هغه چې صبر يې کړی وو، او وابه چولی شي پر دوی په دغه جنّت کې تحيّت دعاء او سلام.

تفسير: يعنې په جنّت کې به لوړې (اوچتې) درجې ورورسيږي، او پرښتې به دعاوې ورته کوي، او سلامونه به وراچوي، او دوی ته به ښه راغلاست وايي، او استقبال به يې کوي، دوی به هم پخپلو منځونو کې د ملاقات او ليدلو په اوقاتو کې همدغه د سلام او د تحيّت دعائيه کلمات د يوه او بل د تکريم او اعزاز لپاره استعمالوي.

خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴿٧٦﴾

همېشه به وي دوی په دغه (جنّت) کې، ښه دی (دغه جنّت) له جهته د ځای د قراری، او له جهته د ځای د هستوګنې.

تفسير: يعنې د داسې ځای هستوګنې که د لرې مودې لپاره هم چاته ميسره او په لاس ورشي؛ خو لوی غنيمت او ښه نعمت دی، حال دا چې دغه ځای خو د جنتيانو د دائمي اوسېدلو ځای دی.

قُلْ مَا يَعْبَؤُا۟ بِكُمْ رَبِّى لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ ۖ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا ﴿٧٧﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته چې) نه کوي هيڅ پروا د تاسې رب ځما که چېرې نه وي دعاء بلل ستاسې (الله ته په سختيو کې)، او په تحقيق تکذيب کړی دی تاسې (د رسولانو او د قرآن)، پس ژر به شي (دا عذاب له تاسې سره جزاء د تکذيب) لازم.

تفسير: يعنې تاسې ته ستاسې د نفعې او د نقصان خبرې در وښيي، بنده ته ښايي چې له سره مغرور او بې باکه نشي، ځکه چې پاک الله له سره د ده پروا نه لري، هو ! که بنده الله جل جلاله ته التجاء او دعاء کوي؛ نو الله هم پرې رحم او کرم فرمايي، او که التجاء نه کوي، او ځان لوی او بې پروا ښکاره کوي، نو د الله تعالى هغې سزا او پوښتنې ته دې منتظر اوسي، چې عنقريب ورسره مخامخ کېدونکی دی.

تمّت سورة الفُرقان، بعون الله المنّان، ولله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الشُّعَرَاءِ

«د (الشعرآء) سورت مکّي دی، پرته له (۱۹۷) آیته او له (۲۲۴) تر آخر د سورت پورې چې مدني دي، (۲۲۷) آیته (۱۱) رکوع لري، په تلاوت کې (۲۶) او په نزول کې (۴۷) سورت دی، وروسته د «الواقعة» له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

طٰسٓمٓ ① تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ② لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ اَلَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ③

دا (آیتونه د دې سورت) آیتونه دي د کتاب ښکاره کوونکي (د حق له باطله، او د حلال له حرامه) یعنې د دې کتاب اعجاز ظاهر او باهر دی، او احکام یې واضح دي، او د حق او باطل په منځ کې ښلوونکی دی. ښایي چې ته هلاکوونکی د ځان خپل یې (ای محمده) په دې چې ولې نه کیږي دوی مؤمنان.

تفسیر: یعنې ددغو بد بختانو په غم کې تاسی خپل ځان دومره مه کړوی، ایا پر دوي پسي خپل ځان هلاکوئ.

اِنْ نَّشَاْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ اٰيَةً فَظَلَّتْ اَعْنَاقُهُمْ لَهَا خٰضِعِيْنَ ④

که اراده وفرمایو مونږ ؛ نو نازل به کړو مونږ پر دوی له (طرفه) د اسمانه یو دلیل، پس شي به ورمښرونه د دوی هغه (دلیل د قدرت) ته غاړه ایښودونکي.

تفسیر: یعنې دغه دنیا د ابتلاء ځای دی، چې په کې د بندګانو د انقیاد او تسلیم او د سرکشی امتحان اخیستل کیږي، نو ځکه د الله تعالی حکمت د دې خبرې مقتضي نه دی، چې د هغوی اختیار سلب کړ شي، که نه که الله تعالی فرمایلی وی؛ نو کومه داسې اسماني نښه به یې ورښوولې وه، چې د هغې په مقابل کې به ګردو خلقو قهرًا او جبرًا خپلې غاړې کښودې، او ډېرو لویو لویو مشرانو ته به هم د دې خبرې قدرت او فرصت او موقع نه وی پاتې چې ترې انکار او انحراف وکړي، نو الله تعالی داسې ونه کړه، هو ! هغه معجزې او نښې یې ولېږلې چې د هغو په لیدلو انسان حق او حقیقت په اسانۍ سره وپېژندلی شي، او کله کله د هغه په مقابل کې مغلوب هم شي، او دغاړې کښودلو څخه ځان ونشي ژغورلی (بچ کولی).

وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنَ الرَّحْمٰنِ مُحْدَثٍ اِلَّا كَانُوْا عَنْهُ مُعْرِضِيْنَ ⑤

او نه راځي دوی ته هیڅ پند وعظ له (طرفه) د رحمان نوی؛ مګر وي دوی له هغه (پند) څخه مخ ګرځوونکي (او لا کلکېدونکي په کفر خپل).

تفسیر: یعنې د هغو خلقو په غم کې چې تاسې اخته یئ؛ د دوی حالت دا دی چې هر کله «رحمان» جلّ جلاله پخپل رحمت او شفقت سره د دوی د ښېګڼې او نېکۍ لپاره کوم پند او نصیحت لیږي؛ دوی هغه طرف ته نه متوجه کیږي، بلکه مخونه ګرځوي او ترې تښتي، او داسې راښکاره کوي لکه چې له کوم بد شي سره مخامخ شوي دي.

فَقَدْ كَذَّبُوا فَسَيَأْتِيهِمْ أَنبَاءُ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ۝٦

پس په تحقيق تکذيب وکړ دوی (د هغه ذکر يا محمد)؛ پس ژر به راشي دوی ته عواقب حقائق د هغه (څيز) چې وو دوی چې په هغه باندې به يې مسخرې کولې.

تفسير: يعنې يواځې همدغه معمولي اعراض نه دی، بلکه له هغه سره لا تکذيب او استهزاء هم دي، نو دوی به عنقريب په دنيا او آخرت کې د خپلو اعمالو سزا وګوري، نو بيا به د هغه څيز په حقيقت باندې په ښه شان سره وپوهيږي، چې په کوم شي باندې چې مونږ مسخرې کولې او ملنډې (خندا) مو پرې وهلې، او تکذيب به مو کاوه؛ هغه د الله تعالى حق أحکام او صحيح وو.

أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الْأَرْضِ كَمْ أَنبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ ۝٧ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ۝٨

آيا نه ګوري دوی ځمکې ته چې (په خپل بالغه حکمت سره) څومره زرغون کړي دي مونږ په دغه (ځمکه) کې له هر قسم هر ډول (جنس) ګياه ښه (کثير المنافع، مخصوص شيان). بېشکه په دغو (زرغونولو کې) خامخا دليل نښه ده (لويه د قدرت)، او نه دي زياتره د دوی مؤمنان.

تفسير: يعنې که دغو مکذّبينو د دغې ځمکې پر احوال غور او فکر چلولی وی، چې د دوی تر پښو لاندې لوېدلې ده؛ نو د مبدأ او معاد په معرفت حاصلولو کې به هغه د دوی لپاره کافي کېدلی شوی، آيا دوی نه ګوري چې له دغه ذليلې، خوارې او حقيرې خاورې څخه څرنګه عجيب او غريب،او رنګ په رنګ ګلان، مېوې، دانې، او قسم په قسم غلې او نور شيان تر يوه مضبوط اصول او د تکوين او نظام تر قوانينو لاندې پيدا کيږي، !، آيا دغه د دې خبرې دليل نه دی چې کوم لا محدوده قدرت او حکمت لرونکی صانع دغه له ښايست ډک او سينګاري چمن دغه ښه او ښکلي ګلان کرلي دي؛ چې د هغه په واک او قبضه کې د وجود او ګردو موجوداتو زمام او اختيار هم دی؟، او دی هم هغه ذات دی هر کله چې اراده وفرمايي؛ هغه ورانولی هم شي، وروسته له ورانۍ د هغه دويم ځلې ودانې هم د ده په قدرت کې ده، بيا سره د دغو تکويني آيتونو د پوهېدلو څخه وروسته ولې تاسې د دغو تنزيلي آيتونو تصديق نه کوئ؟ آيا په دغه کې څه اشکال باقي دی؟ هو ! که يې له سره نه منئ؛ نو دغه ښه خبره ده.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ۝٩

او بېشکه رب ستا خامخا هم دی دی ښه قوي غالب (په انفاذ د احکامو) ښه رحم کوونکی.

تفسير: يعنې الله خو داسې يو عزيز مقتدر او زبردست ذات دی، چې د نه منلو په تقدير على الفور پر منکرينو عذاب هم لېږلی شي، مګر دی پخپله د خپل رحم او کرم له مخې په هغه کې تأخير کوي، او دوی ته موقع ورکوي چې ګوندې دوی يې ومني، وروسته د مکذبينو د عبرت لپاره د څو واقعاتو بيان فرمايي، چې له هغو څخه دغه خبره ظاهريږي چې الله تعالى هغوی ته تر کومې اندازې پورې مهلت ورکړی وو، کله چې على رؤوس الأشهاد معلوم او ښکاره شو چې هغوی په هيڅ ډول د حق او حقانيت منونکی نه دي؛ نو بيا يې زياتره دوی تباه او برباد کړل.

وَإِذْ نَادَىٰ رَبُّكَ مُوسَىٰ أَنِ ائْتِ الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ۝١٠ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ۚ أَلَا يَتَّقُونَ ۝١١

او (ياد کړه) هغه وخت چې غږ وکړ رب ستا موسى ته داسې چې ورشه هغه قوم ته چې ظالمان دي (يعنې) قوم د فرعون ته (چې ډېر ظلمونه کوي)، آيا نه ويريږي دوی له (الله).

تفسير: يعنې ای موسى ! ته لاړه شه ! دوی د الله تعالى له قهره وويروه !.

قَالَ رَبِّ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴿۱۲﴾ وَيَضِيقُ صَدۡرِي وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِي فَأَرۡسِلۡ إِلَىٰ هَٰرُونَ ﴿۱۳﴾

وويل موسى: اى ربه ځما ! بېشكه زه ويرېږم له دې نه چې نسبت د دروغو به وكړي (دوى ماته). او بل تنګيږي سينه ځما (له تكذيبه د دوى) او (بل) نه چليږي ژبه ځما (صافه خلاصه په وخت د تبليغ كې)؛ پس ولېږه (جبريل په وحيې سره) طرف د هارون ته.

تفسير: يعنې قبطيان به ځما د پوره خبرې د اوربدلو څخه لا له پخوا ځما په دروغجن ګڼلو باندې خوله وپرانيځي، او په هغه مجلس كې به مې هيڅوک تاييد كوونكى نه وي، ممكن دي چې په دغه وخت كې زه ملول او حزين شم، او فكر او طبيعت مې خراب شي، او په زړه كې مې خفګان او تنګي راشي، او ژبه به مې چې لكنت او بندش هم لري، د زړه د دغه تنګى څخه لا په كې زيات نيونه او بندبدل څرګند (ښكاره) شي، نو كه ځما د تقويت لپاره ځما وزير او ملګرى هارون وګرځوې؛ نو ستا زيات لطف او مهرباني به وي، ځكه چې هغه له ما ځنې فصيح اللسان دى.

وَلَهُمۡ عَلَيَّ ذَنۢبٞ فَأَخَافُ أَن يَقۡتُلُونِ ﴿۱۴﴾

او (بل) شته دوى لره پر ما (دعوى د يوې) ګناه، پس ويرېږم له دې نه چې مړ به مې كړي.

تفسير: يعنې د يوه قبطي د وينې دعوى چې د هغه تفصيل به د القصص په سورت كې راځي، پر ما باندې دائره ده؛ نو زه ويرېږم چې پخوا له دعوت او تبليغه ځما كار تمام نه كړي، چې دغه خو هم هغه سړى دى چې ځمونږ يو قبطي يې وژلى وو، او راځنې تښتېدلى وو، نو په دغه تقدير سره به زه د تبليغ فرض څرنګه اداء كړى شم؟.

قَالَ كَلَّاۖ فَٱذۡهَبَا بِـَٔايَٰتِنَآۖ إِنَّا مَعَكُم مُّسۡتَمِعُونَ ﴿۱۵﴾

وفرمايل (الله موسى ته) نه ده داسې (مه ډارېږه ! نه دې شي وژلى)، پس لاړ شئ تاسې دواړه په ښكاره معجزو ځما، بېشكه چې مونږ له تاسې سره يو اوريدونكي (ستاسې د سوال او جواب هم).

تفسير: يعنې قبطيان به څه مجال لري، چې تاته لاس در وړى شي، ورځه ! د خپلې استدعاء سره سم هارون عليه السلام هم له خپله ځانه سره بوځه !، او ځمونږ له دركړې معجزې او نښې سره ورشه !، كله چې د قدرت لويې نښې له تاسې سره شته؛ نو ولې به ويرېږې؟ نښې لا څه كوئ چې زه پخپله هم پر هره موقع كې له تاسې سره يم چې كومك در سره كوم، او د دواړو خواوو خبرې او اترې هم اورم.

فَأۡتِيَا فِرۡعَوۡنَ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿۱۶﴾ أَنۡ أَرۡسِلۡ مَعَنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿۱۷﴾

پس ورشئ دواړه فرعون ته ! نو ووايئ بېشكه چې هر يو له مونږ څخه رسول استاځى د رب د عالميانو يو. په دې خبره باندې چې ولېږه ته (اى فرعونه) له مونږ سره بني اسرائيل (اولاده د يعقوب شام ته).

تفسير: د بني اسرائيلو وطن د ابراهيم عليه السلام په زمانه كې د شام ملك وو، د يوسف عليه السلام په سبب دوى مصر ته راغلل، هلته يې يو مدّت تېر كړ، اوس د الله تعالى اراده داسې وشوه، چې دوى ته ببرته هم هغه د شام ملك وركړي، خو فرعون دوى نه پرېښودل چې شام ته لاړ شي، ځكه چې له دوى ځنې به يې د مريانو په شان كار اخيست، او موسى عليه السلام د بني اسرائيلو د ازادۍ او خپلواكى طالب وو.

قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴿١٨﴾

نو وويل (فرعون موسى ته) آيا تربيت نه وو كړی مونږ د تا په (كورونو) خپلو كې په دې حال كې چې وړوكی هلك وې، او تېر كړي وو تا په مونږ كې له عمره خپله څو كاله (چې دېرش وو).

تفسير: يعنې ته هم هغه نه يې چې په ډېر ناز او نعم ځمونږ په كور كې ستا پالنه او روزنه شوې وه؟ او ځمونږ په لاس كې وړوكی لوی شوی وې، اوس ستا دماغ دومره لوی شوي دي چې له مونږ څخه داسې مطالبات كوې؟ او خپل مشرتوب پر مونږ ثابتوې !.

وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِي فَعَلْتَ وَأَنْتَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿١٩﴾

او بل كړی وو تا كار خپل هغه كار چې كړی وو تا (يعنې ځما قبطي دې وژلی وو) حال دا چې ته (ای موسى) له ناشكرانو څخه يې.

تفسير: په دومره كلونو كې دې داسې دعوى نه كوله، كله چې له دې ځايه څو شپې د باندې لاړې، او اوس چې بېرته راغلې؛ نو د رسالت دعوى كوې؟ او ځمونږ هغه ټول احسانات دې هېر كړل، او اوس دې د نبوّت په دعوى لاس پورې كړی دی، په هغه وخت كې ته هم (العياذ بالله) له همدغو خلقو يو سړی وې، چې نن ورځ هغو ټولو ته كافران وايې.

قَالَ فَعَلْتُهَا إِذًا وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ ﴿٢٠﴾

وويل (موسى فرعون ته) چې: كړی وو ما دغه كار په هغه وخت كې چې وم زه له خطاكارانو ناپوهانو.

تفسير: په دې چې مړ به شي په يو سوك ځما، يعنې ما هغه قبطي په عمد سره نه دی وژلی، په خطا سره ځما په يوه سوك سره مړ شو، زه كه پوهېدی چې دی ځما په يوه سوك سره مري؛ نو ولې به مې تأديب وركاوه: ﴿فَوَكَزَهُ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيْهِ﴾ (القصص سورت (۲) ركوع، (۱۵) آيت (۲۰) جزء).

فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكْمًا وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿٢١﴾

پس وتښتېدم زه له تاسې كله چې وويرېدم زه له تاسې، پس وبانبه ماته رب ځما حكم علم فهم او وګرځولم (دغه الله) زه له رسولانو څخه.

تفسير: يعنې بېشكه چې زه وويرېدم او له دې ځايه وتښتېدم، ليكن د الله تعالى دا منظور وو، چې ماته پخپل فضل او مرحمت سره نبوّت او حكمت مرحمت كړي، او د رسالت په كرامت سره مې سرلوړی (اوچت) او ممتاز وګرځوي، او ستاسې په لور مې درولېږي، دا دی چې زه په امر د الله سره درغلی يم، چې تاته سمه صافه لاره دروښيم، او دغه څه اظهارات چې تاسې وكړل، دغه ګرد ځما د صداقت دليل دی، چې هغه سړی چې ستاسې له وېرې تښتېدلی وو؛ بيا څرنګه داسې بې خوفه او بې خطره ستاسې په مخ كې نېغ ولاړ دی؟.

وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدْتَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿٢٢﴾

او (آيا) دغه (تربيت) يو نعمت دی چې احسان يې كوې پر ما باندې (چې هغه ستا له شفقته نه وو، بلكه له دې جهته وو) چې مريونه كړي دي وو بني اسرائيل.

تفسير: يعنې ځما د وړوکوالي د پالنې احسان راڅرګندول (ښکاره کول) تاته ښه نه ښکاري، آيا د يوه اسرائيلي وړکي پالنه او تربيت د دغې خبرې جواب کېدی شي چې تا ګرد د بني اسرائيلو قوم له آزادۍ ځخه محروم ګرځولی دی، او له دوی سره د بندګانو او مريانو په شان سلوک کوې، بالخصوص چې د دغه وړوکي پالنه هم ستا د هغو زړه چاودونکيو مظالمو او تېريو په سلسله کې واقع شوې وه، که تا هغسې ظلم او تېری نه کولی، او ګرد بني اسرائيلي هلکان دې نه وژلی؛ ولې به مې مور ژوندی په تابوت کې غورځولم؟ او بيا هغه تابوت يې ولې په سيند کې لاهو کاوه؟ او ولې به زه ستا حرام سرای ته رسېدم؟ د دغو حالاتو له تصوّره تاته داسې احسان له څرګندولو ځخه شرم او ننګ پکار دی، او صافه خبره خو دا ده، هغه الله تعالى چې ځما تربيت او پالنه ستا په شان د يوه دښمن کره کړې ده؛ هم هغه الله مې نن ورځ ستا د خير غوښتلو او لار ښوولو لپاره خپل رسول ګرځولی او لېږلی يم.

قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۳﴾

وويل فرعون (موسى ته) او څه څيز دی رب د عالميانو؟.

تفسير: يعنې موسى عليه السلام د ﴿فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ په امتثال خپل ځان يې د رب العالمين رسول وباله، د ده په مقابل کې فرعون د جحود، تعنّت، ضد او عناد له لارې (العياذ بالله) وويل چې: رب العالمين څه شی دی؟ سره ځما له وجوده د بل کوم رب نوم اخيستل څه معنى لري؟ ځکه چې د دې ازلي شقي دعوی د خپل قوم په مخ کې داسې وه: ﴿مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِيْ﴾ «ز ماسوا له خپل ځانه بل کوم معبود تاسې ته نه پېژنم»، او ﴿اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى﴾ «زه يم ستاسې لوی پروردګار»، لکه چې د ده قوم به ځينې له انتهايي جهل او بلادت، او ځينې له خوفه او طمعې د ده په عبادت لکې لګيا وو، اګر که په خپل زړه کې دغه ملعون هم د الله په وجود يقين لرلو لکه چې له ﴿قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ اَنْزَلَ هٰٓؤُلَآءِ اِلَّا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ بَصَآئِرَ﴾ ځخه ظاهريږي، (۱۵ جزء، د بني اسرائيل سورت (۱۲) رکوع، (۱۰۲) آيت).

قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ﴿۲۴﴾

وويل موسى (په جواب د فرعون کې) چې: رب العالمين رب د اسمانونو او د ځمکې او د هغو ګردو شيانو دی چې په منځ د دغو دواړو کې دي، که چېرې يئ تاسې يقين کوونکي (نو ايمان پرې راوړئ).

تفسير: يعنې د اسمان او د ځمکې ګرد شيان چې د هغه لوی ذات تر اداري او تربيت لاندې دي؛ هغه هم رب العالمين دی، که ستاسې په زړونو پر کوم شي باندې د يقين راوړلو استعداد موجود وي؛ نو انساني فطرت له ګردو ځينې پخوا پر دغه ربّ العالمين د يقين کولو لپاره کافي دی.

قَالَ لِمَنْ حَوْلَهٗٓ اَلَا تَسْتَمِعُوْنَ ﴿۲۵﴾

وويل (فرعون) هغو (مشرانو) ته چې چاپېر وو له ده سره، چې آيا نه اورئ تاسې (دغه ځواب د ده چې نه دی موافق له سواله سره).

تفسير: فرعون عمدًا او په قصد سره غوښتنه وکړه، چې خبره ګډه وډه او تالا کړي، نو د خپلو درباريانو او نوکرانو د تېزولو او هڅولو لپاره او د موسى عليه السلام د خبرې د خفيفولو لپاره يې داسې وويل چې: «اورئ چې موسى څومره له کاره لرې خبرې کوي؟ آيا له تاسې ځنې به کوم يو تصديق کوي چې ماسوا له مانه په اسمان او ځمکه کې بل کوم رب شته؟».

قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۶﴾

وويل (بيا موسى فرعون ته چې رب العالمين) رب د تاسې دى او رب د پلرونو د تاسې دى چې ړومبي وو.

تفسير: يعنې اى احمقانو ! زه چې د كوم رب العالمين ذكر كوم؛ هغه داسې يو لوى ذات دى، چې ستاسې او ستاسې د پلرونو او نيكه ګانو پيدا كوونكى دى، څه وخت چې ستاسې بوى او تخم هم نه وو؛ ده په هغه وخت كې هم د ځمكې او اسمان تربيت او تدبير كاوه.

قَالَ اِنَّ رَسُوْلَكُمُ الَّذِيْٓ اُرْسِلَ اِلَيْكُمْ لَمَجْنُوْنٌ ﴿۲۷﴾

وويل (فرعون) بېشكه رسول ستاسې دغه چې لېږلى شوى دى تاسې ته خامخا مجنون لېونى دى.

تفسير: يعنې (العياذ بالله) يو ليونى يې رسول ګرځولى دى، او لېږلى يې دى، چې نه يوائې مونږ بلكه ځمونږ پلرونه او نيكه ګانو ته هم بد وايي، او ځمونږ د دغه شوكت او حشمت څخه لږ څه هم نه متأثر كيږي، او نه يې ترې سترګې سوځي، نو معلوميږي چې د ده دماغ او ماغزه بالكل له عقل څخه عاري شوي دي.

قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲۸﴾

وويل (بيا موسى فرعون ته چې رب العالمين) رب د مشرق او (رب د) مغرب او (رب د) هغو ټولو شيانو دى چې په منځ د دغو كې دي، كه چېرې يئ تاسې چې څه قدر عقل كولى شئ (نو ايمان راوړئ په وحدانيت د الله).

تفسير: موسى عليه السّلام بيا يوه داسې خبره وكړه لكه چې ابراهيم عليه السلام د نمرود په مقابل كې كړې وه، يعنې ربّ العالمين هغه ذات دى چې د مشرق او مغرب مالك دى، او د ټولو ستوريو د طلوع او غروب تدابير په يوه ټينګ او مضبوط نظام موافق كوي.

كه په تاسې كې لږ څه عقل او پوهه وي؛ نو په دغه باندې پخپله هم پوهېدى شئ، چې د دغه عظيم الشأن نظام قائم ساتونكى ماسوا له الله تعالى څخه بل هيڅوك نشي كېدى.

د دغې وروستنۍ خبرې د اورېدلو څخه فرعون بالكل متحيّر او مبهوت شو، او د مباحثې او مجادلې څخه يې مخ واړاوه، او په ويرولو او ډارولو سره يې خپله خوله وسپړله، لكه چې وروسته له دې نه راځي.

قَالَ لَىِٕنِ اتَّخَذْتَ اِلٰهًا غَيْرِيْ لَاَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُوْنِيْنَ ﴿۲۹﴾

وويل (فرعون موسى ته) قسم دى كه چېرې ونيو تا معبود غير له مانه (بل څوك)؛ نو خامخا وبه ګرځومه زه هرومرو تا له بنديانو څخه.

تفسير: په دغه ځلي فرعون خپل مطلب په صافو الفاظو سره ښكاره كړ، چې دلته په مصر كې بل هيڅ يو معبود نشته، كه پرته (علاوه) له ما ځنې د بل كوم معبود حكومت ومنلى شي؛ نو په ياد يې ولرئ چې دغسې نورو معبود منونكيو لپاره ځما بندي خانه تياره ده.

قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ مُّبِينٍ ﴿٣٠﴾

وويل (موسى فرعون ته) آيا (نه کوې باور په الوهيت د الله؟) اګر که راوړم زه تاته دليل يو شی ښکاره (دليل ښکاره کوونکی).

تفسير: يعنې پخپله دغه فيصله کې اوس تلوار مه کوه !، دغه خو ستا د خبرې جواب وو، اوس خو لږ هغه ښکاره معجزې هم وګوره، چې په هغو سره د الله تعالی قُدرت او ځما صداقت دواړه در څرګندېږي (ښکاره کيږي).

قَالَ فَأْتِ بِهِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٣١﴾ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿٣٢﴾ وَنَزَعَ يَدَهُ فَإِذَا هِيَ بَيْضَاءُ لِلنَّاظِرِينَ ﴿٣٣﴾ قَالَ لِلْمَلَإِ حَوْلَهُ إِنَّ هَٰذَا لَسَاحِرٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿٣٥﴾

وويل (فرعون موسى ته) پس راوړه هغه (ښکاره دليل) که يې ته له صادقانو رښتيا ويونکيو (په دعوی خپله کې). پس وغورځوله (موسی) همسا خپله، پس ناڅاپه په دغه وخت کې وه هغه يو ښامار ښکاره ظاهر. او راويې ايست لاس خپل (له دننه د ګرېوان خپل) پس ناڅاپه دغه (لاس) وو تک سپين (نظر د) کتونکيو ته. نو وويل (فرعون) اشرافو (د قوم) ته چې چاپېر د ده (ناست وو): بېشکه دغه (سړی) خامخا ساحر (کوډګر) دی ډېر پوه. اراده لري د دې چې وباسي تاسې له ځمکې (وطن) ستاسې په سحر (کوډو) خپل سره، پس څه (امر حکم مشوره) راکوئ تاسې (ماته د موسی په باره کې).

تفسير: فرعون چې تر اوسه پورې د الوهيت مدّعي وو، اوس داسې وارخطا او بد حواسه شوی دی، چې له خپلو مريانو، نوکرانو، او د ده په زعم له خپلو بندګانو څخه مشورې غواړي، او دې ته حاضر دی چې د هغو پر ښوونه تګ هم وکړي.

قَالُوا أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَابْعَثْ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ ﴿٣٦﴾ يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٍ ﴿٣٧﴾ فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِيقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿٣٨﴾

وويل (مشرانو) تأخير ورکړه (کار د) دغه (موسی) ته او ورور د ده (هارون) ته، او ولېږه په ښارونو کې راټولونکي (محصلان). چې راولي تاته هر ښه ساحر (کوډګر) ښه هوښيار. پس را ټول کړل شول ساحران وعدې د ورځې معلومې ته (چې څابنت د ورځې جشن وو).

تفسير: يعنې د اختر ورځ د څابنت په مهال (وخت).

وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنتُم مُّجْتَمِعُونَ ﴿٣٩﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ إِن كَانُوا هُمُ الْغَالِبِينَ ﴿٤٠﴾

او وويل شو خلقو ته چې آيا يئ تاسې يو ځای کېدونکي (دغې معلومې ورځې ته، بلکه ګرد سره راټول شئ !). ښايي چې مونږ متابعت (قبول) کړو (لارې د) ساحرانو که چېرې شول دوی همدوی غالبان بريالیان (پر موسی).

تفسير: يعنې پر ټولو لازم دي چې هلته يو ځای شي، مونږ قوي هيله (ارزو) او اميد لرو چې ځمونږ کوډګران به بريالیان (کامياب) شي، نو هله به د موسی د مغلوبيت او د ماتې د ښه ښکاره کولو لپاره د خپلو کوډګرانو په لاره ځو، ګواکې د دغې خبرې اظهار مقصود وو، چې په دغه کې مونږ له خپله ځانه څه غرض او مقصد نه لرو، کله چې په مقابله کې ځمونږ پله درنه وختله؛ نو بيا انصافًا څوک حق نه لري، او نشي کولای چې ځمونږ له طريقې څخه منحرف شي.

فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالُوا لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ الْغَالِبِينَ ﴿٤١﴾ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ إِذًا لَّمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾

پس کله چې راغلل ساحران (کوډګران)؛ وويل دوی فرعون ته: آيا په تحقيق وي به مونږ ته خامخا څه اجر (مزدوري) که چېرې شو مونږ همدا مونږ غلبه کوونکي (بريالیان). نو وويل (فرعون کوډګرانو ته) هو ! (تاسې لره اجر شته، او علاوه پر هغه) بېشکه چې تاسو په دغه وخت کې خامخا له مقربانو (مصاحبانو ځما يئ).

تفسير: يعنې نه يوائې مالي انعام او اکرام به درکړم، بلکه تاسې به ځما د خاصو مصاحبانو په ډله کې هم داخلېږئ، د دغو آيتونو مفصّل بيان د «الأعراف» او د «طـه» په سورتونو او نورو ځايونو کې پخوا ليکلی شوی دی.

کله چې ساحران د جشن په ورځ د ګردو خلقو په مخکې ميدان ته راغلل، او د نندارو کوونکيو صفونه وترل شو؛ نو:

قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ أَلْقُوا مَا أَنتُم مُّلْقُونَ ﴿٤٣﴾

وويل دغو (کوډګرانو) ته موسی: وغورځوئ تاسې هر هغه څيز چې تاسې غورځوونکي يئ (د هغه).

تفسير: يعنې څه وخت چې کوډګرانو وويل چې: ای موسی عليه السلام ! ته دې خپله همسا ړومبی غورځوې يا يې مونږ وغورځوو؟ موسی عليه السلام د دوی په ځواب کې وفرمايل چې: «تاسې يې ړومبی وغورځوئ !، او خپل پوره زور او قوّت هم په کې صرف کړئ !».

فَأَلْقَوْا حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُوا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ الْغَالِبُونَ ﴿٤٤﴾

پس وغورځول (کوډګرانو) پرې خپل او همساګانې خپلې، او وويل (کوډګرانو): په عزت (اقبال) د فرعون بېشکه مونږ خامخا همدا مونږ يو غالبان (بريالیان).

تفسير: ځينو ﴿بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ﴾ د قسم په معنی اخيستی دی، يعنې د فرعون پر اقبال قسم خورو چې همدا مونږ بريالیان (غالبان) کيږو.

فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿٤٥﴾

بيا وغورځوله موسی همسا خپله، پس ناڅاپه هغې (همسا) ونغړل (ښوی تېر کړل) هغه (ماران) چې (ساحرانو) په دروغو جوړ کړي وو.

فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٦﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَارُونَ ﴿٤٧﴾ قَالَ آمَنتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۖ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ۚ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٩﴾

پس وغورځول شول پرمخي ساحران سجده کوونکي (الله ته)، (وويل ساحرانو:) ايمان راوړی دی مونږ په رب د عالميانو. رب د موسی او د هارون. وويل (فرعون ساحرانو ته:) آيا ايمان راوړلو تاسي په دغه (موسی) پخوا له هغه چې زه اذن (اجازه) درکړم تاسي ته (د ايمان راوړلو په ده)، بېشکه دغه (موسی) خامخا مشر دی ستاسي، هسې (مشر) چې ښوولی يې دی تاسي ته سحر (کوډې)، پس خامخا ژر به عالمان شئ (په جزا د عمل خپل)، خامخا زه به پرې کړم لاسونه د تاسي او پښې د تاسي سره مخالفې (ښی لاس او کينه پښه يا عکس د دې)، او خامخا وبه ځړوم (ځوړند به کړم) پر دار هرومرو تاسي ټول (چې مړه شئ او درنه عبرت واخلي نور).

تفسير: يعنې موسی عليه السلام ستاسو لوي ښوونکی دی تاسي به خپلو منځونو کې سره دا غوټه کړي چې مونږ به داسی کوو.

قَالُوا لَا ضَيْرَ ۖ إِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿٥٠﴾

وويل (ساحرانو) نشته ضرر مونږ ته په دې کې ځکه چې بېشکه مونږ رب خپل ته بېرته راتلونکي يو.

تفسير: يعنې په هر حال وروسته له مرګه هرومرو د الله تعالی حضور ته بيول کيږو، په داسې موت سره مونږ د شهادت درجه مومو.

إِنَّا نَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَايَانَا أَن كُنَّا أَوَّلَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٥١﴾

(او بل ځکه چې) بېشکه مونږ طمعه هيله (اميد) لرو د دې چې وبخښي مونږ ته رب ځمونږ ګناهونه ځمونږ له جهته د دې چې يو مونږ (په دغو حاضرينو کې) ړومبی د ايمان راوړونکيو.

تفسير: يعنې د موسی عليه السلام له دعوت او تبليغ څخه وروسته د دغې لويې مجمع په محضر او د ظالم فرعون په مخ کې له ګردو څخه ړومبی مونږ د حق د قبوليت اعلان وکړ، له دې نه داسې هيله (ارزو) او اميد کيږي چې الله تعالی به ځمونږ پخواني ګرد تقصيرات معافوي.

وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٥٢﴾

او وحي (حکم) ولېږه مونږ طرف د موسی ته داسې چې د شپې بوځه بندګان ځما (بني اسرائيل بحر ته) بېشکه چې تاسي پسې به درشي (فرعون سره له فرعونيانو).

تفسير: يعنې څه وخت چې فرعون له يوې اوږدې مودې پورې سره د ويلو او پوهولو او د قدرت د ښودلو هم ايمان رانه وړ، او حق يې ونه مانه، او د بني اسرائيلو د ايذاء او ضرر څخه يې لاس وانخيست؛ نو مونږ موسی عليه السلام ته حکم ورکړ چې د شپې له مخې ته سره له قوم خپل له دې ځايه د هجرت په نيت ووځئ !، او خبردار اوسئ ! چې فرعونيان به هم په تاسې پسې درځي، او ستاسې تعقيب به په شدّت سره کوي، ښايي چې تاسې ترې ونه ويرېږئ !.

فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ ﴿۵۳﴾ إِنَّ هَٰؤُلَاءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ﴿۵۴﴾

پس ولېږل (فرعون) په ښارونو کې (يعني ښارونو ته محصلان) راټولوونکي (د لښکر، تر څو چې ګرد قبطيان ټول کړي او د سبطيانو «بني اسرائيلو» تعاقب وکړي). (او وويل فرعون) چې بېشکه دغه (بني اسرائيل) خامخا يوه ډله ده ډېره لږه.

تفسير: يعنې د دغه وړوکي جمعيت له لاسه مونږ پکو (تنګ) شوي يو، حال دا چې د دوی هستي هيڅ شی ده، او د دوی موجوديت مونږ ته هيڅ وقعت او اهميت نه لري، او نه دوی ځمونږ د جنګ او د مقابلې قوّت او توان لري، دغه خبرې يې د دې لپاره کولې چې د ده قوم په جوش او غيرت راشي.

وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَائِظُونَ ﴿۵۵﴾

او بېشکه چې دغه (سبطيان) له مونږ زړه سوی (لړمون خوړين) دي.

تفسير: يا مونږ په قهر او غوسه راولي، يعنې داسې کارونه کوي چې مونږ پر دوی په قهر شو، معلوم دی چې بدبختي او شقاوت دوی په دغه اړولی دی چې ځمونږ قهر او غضب ځان ته وګټي.

وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَاذِرُونَ ﴿۵۶﴾

او بېشکه مونږ خامخا ټول (قبطيان مجرب محتاط يو، او له دغو سبطيانو نه) په خطره ويره کې يو.

تفسير: نو د دغې هرې ورځنۍ خطرې بېخ او بنسټ (بنياد) ايستل او دائمي قلع او قمع يې په کار ده، او راځئ چې يو ځلې يې له منځه ورک کړو، ځينو مفسّرينو د دې ترجمه داسې کړې ده، چې: «ځمونږ لښکر او جمعيت خورا ډېر دی، چې ګرد سره مسلّح، مجرب او محتاط دي»، نو دغه الفاظ به د تشويق او زړه ورتوب لپاره وي، والله أعلم.

نو وفرمايل الله تعالى جلّ و علا شأنُه وعظُم برهانُه:

فَأَخْرَجْنَاهُم مِّن جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿۵۷﴾ وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿۵۸﴾ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَاهَا بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿۵۹﴾

پس ويستل مونږ دغه (قبطيان) له باغونو او (له) چينو. او (له) خزانو او (له) مقام عمده (ښو ځايونو) نه. همداسې (وکړه مونږ له قبطيانو سره) او په ميراث مو ورکړل دغه (ځيزونه) بني اسرائيلو ته.

تفسير: ﴿كَذَٰلِكَ﴾ يعنې په دې ډول قبطيانو کور کهول، مال دولت، باغونه او کښتونه (فصلونه) پرېښودل، او ګرد سره يو ځای د بني اسرائيلو په تعاقب ووتل، چې بيا ببرته ګرځېدل د هغوی په برخه نشو، ګواکې په دغه تدبير سره الله تعالى دوی د باندې وشړل.

يا خو دغه باغونه او چينې او خزانې او ښه ځايونه او نور شيان وروسته له هغه د بني اسرائيلو په لاس ورغلي دي، او يا څه موده وروسته د سليمان عليه السلام په دور کې د مصر مملکت هم دده په سلطنت کې شامل شو.

فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ﴿۶۰﴾ فَلَمَّا تَرَاءَى الْجَمْعَانِ قَالَ أَصْحَابُ مُوسَىٰ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ﴿۶۱﴾

پس وروسته د دغو (سبطيانو) لاړل دغه (قبطيان او ورسېدل) هغوی ته په وخت د ختلو د لمر پسې. پس کله چې سره وليدل دغو دواړو لښکرو (يو له بله سره)؛ نو وويل ملګريو د موسى چې بېشکه مونږ خامخا موندلى شوي يو (نيولى شوي يو) له جانبه د (قبطيانو).

تفسير: يعني د قلزم د بحيرې (احمر بحيرې) څنډې (غاړې) ته ورسېدل، بني اسرائيل په دغه فکر کې وو چې په څه ډول له دغه سينده پورې وځي، چې د شا له طرفه د فرعونيانو لوی لښکر د فرعون په مشرتوب ورپسې ورسېد، اسرائيليان له دغه وضعيت څخه چې له يوه طرفه ډانګ او له بل طرفه پرانګ وو؛ ډېر سخت وويرېدل، او موسی عليه السلام ته يې وويل چې: اوس به مونږ د فرعونيانو له لاسه څرنګه نجات وموندلی شو؟ چې ورځندې سمندر او وروسته دغه لوی لښکر دی، چې په ډېر قوّت او قدرت او زور و شور سره راځي؟.

قَالَ كَلَّآ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٦٢﴾

وويل (موسی سبطيانو ته) چې نه ده داسې ښکه له ما سره رب ځما دی په نصرت او اعانت، ژر به وښيي ماته (لاره د نجات).

تفسير: يعني له سره مه ويرېږئ ! د الله تعالی پر مواعيدو ډاډه او مطمئن اوسئ !، ځکه چې د الله تعالی نصرت او حمايت له مونږ سره دی ! الله جل جلاله به هرومرو د نصرت او حمايت کومه لاره مونږ ته راوباسي، امکان نه لري چې مونږ به دښمنان ونيولی شي.

فَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْبَحْرَ ۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَٱلطَّوْدِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٦٣﴾

پس وحي (حکم) وکړ مونږ موسی ته، داسې چې ووهه ته په همسا خپلې بحر (د قلزم يا د نيل، پس ده وواهه)، پس وچاود (بحر، دولس ټوټې شو) پس شوه هره برخه (يوه ټوټه جدا شوې هسکه ـ اوچته)لکه اوږد لوړ (اوچت) غر (په هسکوالي ـ اوچتوالي کې).

تفسير: اوبو ډېر زيات ژوروالی درلود، له دولسو ځايونو څخه وچاودېدلې، ځيرې شولې، او په کې وچې کلکې لارې جوړې شوې، او د بني اسرائيلو د دولسو قبيلو لپاره بېلې بېلې لارې په کې سازې شوې، او په منځ کې د اوبو لوی لوی ديوالونه د لويو لويو غرونو په شان ودرېدل (كذا في موضح القرآن).

وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ ٱلْـَٔاخَرِينَ ﴿٦٤﴾ وَأَنجَيْنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴿٦٥﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا ٱلْـَٔاخَرِينَ ﴿٦٦﴾

او بيا را نژدې کړل مونږ دغه ځای ته هغه نور (يعني قبطيان) او نجات ورکړ مونږ موسی او هغو (سبطيانو) ته چې له ده سره وو (له غرقه) ټول، بيا غرق کړل مونږ هغه نور (يعني قبطيان).

تفسير: يعني فرعوني لښکر هم نژدې ورسېد، او په بحر کې يې جوړې شوې لارې وليدلې، نو دوی بې له کوم فکر او انديښنې په بني اسرائيلو پسې د اوبو په هغو لويو لويو کوڅو کې سره ورننوتل، کله چې فرعون او ګرد فرعوني لښکر د بحر منځ ته ورسېدل؛ نو على الفور د الله تعالی په حکم له دواړو خواوو د اوبو غرونه پرې ونښېدل، او ټولې اوبه سره يو ځای شوې، او دوی په کې مغروق شول، دغه قصه پخوا له دې نه هم ليکلې شوې ده.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٦٧﴾

بېشکه په دغه (غرق د قبطيانو کې) خامخا لوی دليل دی (د عبرت او د قدرت ځمونږ)، او نه وو زياتره د دوی مؤمنان.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿۶۸﴾

او بيشكه رب ستا خامخا هم هغه دي ښه غالب قوی په انفاذ د أحكامو، او ښه رحم كونكی.

تفسير: دغه يې ځمونږ رسول الله ته اوروﻟی دی چې د مكې معظمې فرعون ابوجهل او فرعونيانو كفّار د قريشو به هم په مسلمانانو پسې جنګ ته راووځي، بيا به له وطن څخه د باندې تباه كيږي، د «بدر» په ورځ لكه چې فرعون په رود نيل يا بحيره قلزم كې تباه شول، (موضح القرآن).

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ إِبْرَاهِيمَ ﴿۶۹﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا تَعْبُدُونَ ﴿۷۰﴾ قَالُوا نَعْبُدُ أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِينَ ﴿۷۱﴾

او ولوله (ای محمده !) پر دغو (كفّارو د مكې) خبر (قصه) د ابراهيم ! كله چې يې وويل پلار خپل (آزر) ته او قوم خپل ته: چې د څه څيز عبادت كوئ تاسې (يعنې دغه څه شی دی چې تاسې يې عبادت كوئ؟) نو وويل دوی: عبادت كوو د بُتانو پس همېشه اوسو دوی ته ورنژدې كېناستونكي (عابدان).

تفسير: يعنې دغه څه شی دی چې تاسې يې عبادت كوئ؟ دغه د ابراهيم عليه السلام سوال وو، نمرودیانو په ځواب كې ورته داسې وويل چې: ته ځمونږ معبودان نه پېژنې؟ چې په داسې تحقير سره يې پوښتنه كوې، مونږ تل د دغو بتانو عبادت كوو، او ځمونږ په زړونو كې د دوی دومره عقيدت او وقعت شته، چې د شپې او د ورځې دوی ته د مجاورانو په شان معتكف ناست يو.

قَالَ هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ تَدْعُونَ ﴿۷۲﴾

وويل (ابراهيم) آيا اوري (دغه بُتان بلنه) د تاسې كله چې يې بولئ تاسې؟.

تفسير: يعنې سره له دومره نارو او سورو وهلو آيا دوی ستاسې خبرې اورېدلی شي؟ كه يې نه اوري، لكه چې د دوی له جماديت څخه ښكاره ده؛ نو دغه بلل او نارې وهل چټې (فضول) او بېكاره دي.

أَوْ يَنْفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ ﴿۷۳﴾

يا څه نفعه رسوي تاسې ته (چې يې عبادت وكړئ) يا ضرر در رسوي (كه يې عبادت ونه كړئ).

تفسير: آيا د دوی د عبادت كولو څخه څه ګټه (فائده) او د نه عبادت كولو څخه څه نقصان دررسولی شي؟ ظاهره او ښكاره خبره ده چې له خپله ځانه يو مچ هم نشي شړلی، هغه به نورو ته څه نفع يا نقصان ورسولی شي، نو بيا داسې يو عاجز جماد شی معبود ګرځول د كوم عاقل او پوه كار كېدی شي؟.

قَالُوا بَلْ وَجَدْنَا آبَاءَنَا كَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿۷۴﴾

وويل (كفّارو چې نه اوري او نه نفع او نه ضرر رارسوي دغه بُتان) بلكه موندلي دي مونږ پلرونه خپل چې همداسې به يې كول (عبادت د بُتانو).

تفسير: يعنې له داسې منطقي مباحثو او حجّتونو او دلائلو سره مونږ څه كار او غرض نه لرو، ځمونږ د عقيدت او عبادت مدار پر هم دغو خبرو دی چې درته ومو ويل، پس له سلهاوو دلائلو څخه يو لوی دليل همدغه خبره ده چې

ځمونږ پلرونه او نيکه ګان به هم پر همدغې لارې روان وو، آيا مونږ هغو ګردو ته احمق او ناپوه ووايو؟ او د هغوی تقليد پرېږدو؟.

قَالَ أَفَرَءَيْتُم مَّا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿٧٥﴾ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُمُ ٱلْأَقْدَمُونَ ﴿٧٦﴾ فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّىٓ إِلَّا رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٧٧﴾
ٱلَّذِى خَلَقَنِى فَهُوَ يَهْدِينِ ﴿٧٨﴾ وَٱلَّذِى هُوَ يُطْعِمُنِى وَيَسْقِينِ ﴿٧٩﴾ وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ ﴿٨٠﴾
وَٱلَّذِى يُمِيتُنِى ثُمَّ يُحْيِينِ ﴿٨١﴾ وَٱلَّذِىٓ أَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لِى خَطِيٓـَٔتِى يَوْمَ ٱلدِّينِ ﴿٨٢﴾

وويل (ابراهيم) آيا پس وينئ (پوهېږئ تاسې په دې چې) هر هغه (بُتان) چې يئ تاسې چې عبادت کوئ. تاسې (د هغوی) او پلرونه ستاسې چې پخوا تېر شوي دي. پس بېشکه چې دغه (بُتان) دښمنان ځما دي، مګر رب د عالميانو (چې دوست يې لرم، او عبادت يې کوم). هغه (رب) چې پيدا کړی يې يم زه (له عدمه)، پس همدی سمه صافه لاره ښيي ماته. او هغه (رب) چې همدی طعام خوري پر ما، او اوبه (او نور) راباندې څښوي. او کله چې مريض رنځور شم؛ پس همدی شفاء راکوي. او هغه (رب) چې مړ کوي مې (په دنيا کې) بيا به مې ژوندی کوي (په عُقبا کې). او هغه (رب) چې طمع هيله (اميد) لرم (ترې) د دې چې وبخښي ماته خطا ځما په ورځې د جزا کې.

تفسير: مفسرين وايې چې پدی کې په يو نهايتی مؤثره طريقی سره پر مشرکينو تعرض دي يعنې هغه بوتان چې تاسي يې عبادت کوي زه خپل دشمنان ګڼم، او يواځی يو واحد او صمد اله العالمين سره مينه لرم، او هم د هغه عبادت کوم چې هغه زه پيدا کړی يم او د دارينو کاميابی رابنايی او خوړل، ځښل، ژوند کول، وژل، او رنځورول او له رنځورئ ځخه روغول د هغه په لاس کې دي، نو د داسی ذات عبادت په کار دي نه د هغه چا چې د هيڅ شي اختيار نلري.

رَبِّ هَبْ لِى حُكْمًا وَأَلْحِقْنِى بِٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٣﴾ وَٱجْعَل لِّى لِسَانَ صِدْقٍ فِى ٱلْءَاخِرِينَ ﴿٨٤﴾ وَٱجْعَلْنِى مِن
وَرَثَةِ جَنَّةِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٨٥﴾ وَٱغْفِرْ لِأَبِىٓ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٨٦﴾

ای ربه ځما ! وبخښه ما ته حکم (علم، عمل، حکمت، نبوّت) او پيوست مې کړه له (لويو) صالحانو سره. او وګرځوه ماته ژبه د صدق (او د ثناء، او د نېکنامۍ آوازه) په وروستنيو (خلقو کې هم). او ومې ګرځوه له وارثانو د جنّت د نعمتونو (يعنې چې ډک دي له خالصو لويو لويو نعمتونو نه). او بخښنه وکړه پلار ځما ته ! بېشکه چې دی وو له ګمراهانو.

تفسير: يعنې مزيد علم او حکمت او د قرب درجات او قبول را مرحمت وفرمايه ! او د اعلی درجې نېکانو په ډله کې مې چې انبياء عليهم السلام دي؛ شامل کړه !، کما قال نبينا صلى الله عليه وسلم: «اللهم في الرفيق الأعلى»، له دغه دعاء ځخه خپل کامل احتياج او د الله تعالی د انتهايي غناء اظهار مقصود دی، يعنې که نبي دی يا ولي؛ الله تعالی د هيڅا په معامله کې مجبور او مضطر نه دی، او تل د هغه د فضل او رحمت او کرم ځخه کار چلېږي.

﴿وَٱجْعَل لِّى لِسَانَ صِدْقٍ فِى ٱلْءَاخِرِينَ﴾ «او وګرځوه ماته ژبه د صدق او د ثناء او د نېکنامۍ آوازه په وروستنيو خلقو کې هم»، يعنې د داسې مرضيه وو اعمالو او حسنه وو آثارو توفيق راپه برخه کړې چې راتلونکي نسلونه تل ما په خير سره ياد کړي !، او تل ځما د سنّت متابعت وکړي !، او ماته راغب وي، او داسې هم کېدی شي چې په آخره زمانه کې دې ځما له کورنۍ ځخه داسې نبي وي چې ځما دين تازه وګرځوي، او ويې ساتي، لکه چې همداسې هم وشوه، چې الله تعالی په دنيا کې ابراهيم عليه السلام ته عمومي قبول وروبانده، او د ده له اولادې ځخه يې ځمونږ خاتم المرسلين سيد

الأولين والآخرين صلى الله عليه وسلم مبعوث کړ، چې دوی د ابراهيم ملّت تجديد وفرمايه، او ويې فرمايل چې: زه د ابراهيم دعاء يم، نن هم د ابراهيم عليه السلام د خبر ذکر د اهل الملل پر ژبو جاري دی، او مونږ محمدي امّت هم په هر لمانځه کې: «اللهم صل وسلم وبارک علی محمد وعلی آل محمد کما صلّيت وسلمت وبارکت علی إبراهيم وعلی آل إبراهيم» لولو.

﴿وَٱغۡفِرۡ لِأَبِيٓ﴾ «او بخښنه وکړه پلار ځما ته، بېشکه چې دی وو له ګمراهانو»، له ترجمې څخه څرګندېږي (ښکاره کيږي) چې کله د ده عدوّ الله توب ظاهر شو، نو خپل د براءت او بېزارۍ اظهار يې وفرمايه، کما قال الله تعالى: ﴿وَمَا كَانَ ٱسۡتِغۡفَارُ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوۡعِدَةٖ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوّٞ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنۡهُۚ﴾ (جزء ۱۱، د التوبه سورت (۱۴) رکوع، (۱۱۴) آيت)، او که په ﴿إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ﴾ کې د «کان» ترجمه د «وو» پر ځای په «دی» سره وکړه شي؛ نو بيا هيڅ اشکال نه پاتې کيږي، ځکه چې په ژوندون کې د ده د ايمان راوړلو امکان باقي وو، نو د دعاء حاصل دا دی چې: «الهي ځما پلار په ايمان سره مشرف وفرمايه ! او د کفر د زمانې خطاوې يې ورمعافې کړه !»، د دې لږ مقصد تحقيق پخوا له دې نه کوم ځای کې تېر شوی دی، هلته دې وکتل شي !.

وَلَا تُخۡزِنِي يَوۡمَ يُبۡعَثُونَ ۝٨٧ يَوۡمَ لَا يَنفَعُ مَالٞ وَلَا بَنُونَ ۝٨٨ إِلَّا مَنۡ أَتَى ٱللَّهَ بِقَلۡبٖ سَلِيمٖ ۝٨٩

او مه مې شرموه په هغه ورځ کې چې ژوندي راپاڅولی شي (ټول مخلوقات له قبورو). په هغه ورځ چې نه رسوي نفع مال او نه (نفع رسوي) ځامن هيڅا ته. مګر هغه چا ته چې راغلی دی الله ته په زړه سلامت پاک (له کفره او نفاقه). يعنې روغ رمټ له رنځه او درده (زړه چې له کفر او نفاقه او فاسدو عقائدو څخه پاک وي؛ هغه هم هغسې کار کوي؛ چې د هغه په اثر په قيامت کې معزّز اوسيږي).

تفسير: هلته به مال او دولت او عيال او اولاد له سره په کار نه راځي، که کافر وغواړي چې په قيامت کې خپل مال او اولاد فديه کړي، او له خپله ځانه يې جار (قربان) کړي، او په دغه وسيله سره خپل ځان خلاص کړي؛ نو دغه به له سره ممکن نه وي، د دغې دنيا د صدقاتو او خيراتونو او نېکو اولادونو څخه هم هلته د نفع توقّع شته، چې د ده زړه د کُفر له نجاسته او پليتۍ څخه پاک او صاف وي.

وَأُزۡلِفَتِ ٱلۡجَنَّةُ لِلۡمُتَّقِينَ ۝٩٠ وَبُرِّزَتِ ٱلۡجَحِيمُ لِلۡغَاوِينَ ۝٩١

او (په هغه ورځ کې به) ورنژدې کړ شي جنّت پرهېزګارانو ته (لپاره د مسرّت او خوشالي د دوی). او ښکاره به کړ شي جحيم ګمراهانو ته (لپاره د حسرت او خفګان د دوی).

تفسير: په محشر کې به جنّت پخپل انتهايي ډول او سينګار او آرايش او زيبايش سره متقيانو ته نژدې په نظر ورځي، چې جنتيان به د هغه له ليدلو څخه پخوا د هغه د ننوتلو څخه ډېر مسرور او محظوظ کيږي، همداسې دوزخ به هم مجرمانو ته ډېر نژدې راوړل کيږي، څو دوی پخوا د هغه له دخوله وويريږي، او ولړزيږي.

وَقِيلَ لَهُمۡ أَيۡنَمَا كُنتُمۡ تَعۡبُدُونَ ۝٩٢ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ هَلۡ يَنصُرُونَكُمۡ أَوۡ يَنتَصِرُونَ ۝٩٣

او وبه ويل شي دوی ته (د پرښتو په ژبه) چې چېرته دي هغه معبودان ستاسې بې له الله چې وئ عبادت به کاوه تاسې د هغو بې له الله نه. آيا مدد کوي له تاسې سره (په دفع د عذاب د الله کې)؟ يا څه مدد کوي دوی له خپله ځانه سره؟ (بلکه نه يې شي کولی).

تفسير: يعنې اوس مو هغه فرضي معبودان چېرې دي؟ چې نه ستاسې مدد کوي، او نه مو له دغه عذابه خلاصولی شي؟ او نه ستاسې بدل او انتقام اخيستی شي؟ بلکه دوی خپلو ځانونو ته هم څه مدد او منفعت نشي رسولی.

فَكُبْكِبُوا فِيهَا هُمْ وَالْغَاوُونَ ﴿٩٤﴾ وَجُنُودُ إِبْلِيسَ أَجْمَعُونَ ﴿٩٥﴾ قَالُوا وَهُمْ فِيهَا يَخْتَصِمُونَ ﴿٩٦﴾ تَاللَّهِ إِن كُنَّا لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾ إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٩٨﴾ وَمَا أَضَلَّنَا إِلَّا الْمُجْرِمُونَ ﴿٩٩﴾ فَمَا لَنَا مِن شَافِعِينَ ﴿١٠٠﴾ وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴿١٠١﴾

پس وبه غورځول شي (دا بُتان) نسکور په دغه (دوزخ) کې، دوی (او هم) ګمراهان. او لښکر د ابليس (شيطان) ټول (عابدان او معبودان). وبه وايي دوی حال دا چې دوی به په دوزخ کې سره جګړې کوي. چې قسم دی په الله چې بېشکه شان دا دی چې وو مونږ په ګمراهۍ ښکاره کې. کله چې برابرولئ مونږ تاسې (په عبادت کې) له رب (پالونکي) د عالميانو سره. او نه وو ګمراه کړي مونږ مګر همدغو مجرمانو (بدو مشرانو ځمونږ). پس نشته مونږ ته له سره له شفاعتګرو (هيڅوک). او نه کوم دوست مخلص (چې ځمونږ په دغه غم غمجن شي).

تفسير: يعنې بُتان او بُت پرستان او ابليس سره د هغو د لښکرو ګردو پرمخې په دوزخ کې غورځول کيږي، وروسته د دې ځای د رسېدلو څخه دوی پخپلو منځونو کې سره جګړې کوي، او يو پر بل باندې به الزام او ملامتي اړوي، او بالآخر ګرد به پر خپلو ګمراهيو اقرار او اعتراف کوي، او وبه وايي چې: «بېشکه له مونږ څخه ډېره لويه ګناه او غلطي شوې ده، چې تاسې بُتانو يا نورو شيانو ته مو د عبوديت حقوق او اختيارات درکړي وو، او له رب العالمين سره مو برابر کړي وئ، اوس مونږ دومره يو يار يا مددګار هم نه لرو چې د الله تعالى په دربار کې ځمونږ شفاعت وکړي، يا د دغه غم او مصيبت په وخت کې له مونږ سره لږ زړه سوی او خواخوږي او د همدردۍ اظهار وکړي».

رښتيا ده چې ﴿الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ﴾ (د الزخرف سورت (۶) رکوع، (۶۷) آيت (۲۵) جزء).

فَلَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٢﴾

پس (کاشکې) که وي مونږ ته يو کرت (بېرته ورتګ دنيا ته) پس شوي به وو مونږ له مؤمنانو.

تفسير: يعنې که يو ځلې مونږ ته داسې موقع راکړه شي، چې بېرته دنيا ته ورشو؛ نو دا ځلې به مونږ له ډېرو کلکو او مضبوطو ايماندارو څخه کيږو، ليکن د دوی دغه وينا به هم دروغ وي: ﴿وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ﴾ (۷ جزء، د الأنعام سورت (۲۸) آيت (۳) رکوع).

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾

بېشکه چې په دغه (قصه د ابراهيم کې) خامخا لوی حجّت (نښه د قُدرت او عبرت) دی (عقلاوو ته)، او نه وو اکثره زياتره د دوی مؤمنان.

تفسير: يعنې په دغه قصه د ابراهيم عليه السلام کې د توحيد او د نورو حسنه وو خصائلو دلائل او د مشرکانو عبرتناکه انجام او خاتمه ښوولې شوې ده، مګر له الله نه منکر خلق يې کله مني.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿۱۰۴﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ الْمُرْسَلِينَ ﴿۱۰۵﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿۱۰۶﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿۱۰۷﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿۱۰۸﴾

او بېشکه رب ستا هم هغه غالب قوي دي (په انفاذ د احکامو) ډېر رحم کوونکی دی. نسبت د دروغو وکړ قوم د نوح رسولانو ته. کله چې وویل دوی ته (قومی) ورور د دوی نوح چې: آیا نه ویرېږئ تاسې (له عذابه د الله نه په شرک خپل)؟. بېشکه چې زه تاسې ته رسول یم امانتګر. پس وویرېږئ تاسې له الله نه او اطاعت وکړئ ځما (په شرعیه وو امورو کې).

تفسیر: یعنې په نهایت صدق او امانت د الله تعالی پیغام بې له تزییده او تنقیصه دررسوم، لهذا پر تاسې واجب دي چې دغه د الله تعالی پیغام په ښه شان سره واورئ ! او د الله تعالی له عذابه ځخه وویرېږئ.

وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿۱۰۹﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿۱۱۰﴾ قَالُوا أَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْأَرْذَلُونَ ﴿۱۱۱﴾

او نه غواړم زه له تاسې نه په دغه تبلیغ باندې هیڅ اجر (عوض ـ بدل). نه دی اجر ځما مګر په رب (پالونکي) د عالمیانو دی. پس وویرېږئ تاسې له الله (په ځان ساتلو له معاصیو) نه، او اطاعت وکړئ تاسې ځما (په شرعي امورو کې ـ یعنې د بې غرضه او بې لوثه سړي خبرې لازمه ده چې ومنل شي !). نو وویل (کفّارو): آیا ایمان راوړو په تا (ای نوحه) حال دا چې متابعت کړی دی ستا رذیلانو، خوارانو (په ایمان راوړو په تا).

تفسیر: یعنې لږ ځه ښکته خواران او غریبان خلق د خپلو ځانونو د ښوونې لپاره له تا سره یو ځای شوي دي، کله چې ستا اتباع داسې خلق نه دي، چې په لوړو (اوچتو) کارونو کې لاس ووهي؛ نو له سره له دوی ځخه کوم لوی کار هم نه څرګندیږي (ښکاره کیږی). او ځمونږ فضل او شرف له سره مونږ ته اجازه نشي راکولی چې له دغو ښکتو خلقو سره کینو، یا له دوی سره ځنګ په ځنګ چېرې لاړ شو، ړومبی خو تاسې دوی له خپله مجلسه لرې کړئ !، بیا نو له مونږ سره خبرې وکړئ !.

قَالَ وَمَا عِلْمِي بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۱۱۲﴾ إِنْ حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّي لَوْ تَشْعُرُونَ ﴿۱۱۳﴾ وَمَا أَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۱۴﴾

وویل (نوح) او نشته علم ځما په هغه ځه چې دي دوی چې یې کوي. نه دی حساب د دوی مګر پر رب (پالونکي) ځما دی که تاسو پوهېږئ. او نه یم زه شړونکی د مؤمنانو (له خپل مجلسه).

تفسیر: یعنې د دوی صدق او ایمان ځما قبول دی، د دوی د چارو یا د دندو یا نیاتو او کورنیو او شخصي مشروعو کارونو سره ځما څه کار او غرض دی، د دغو کارونو فیصله حساب او کتاب به پخپله الله تعالی کوي، باقي زه ستاسې له خاطره غریب او ناداره ایمانداران له خپله ځانه نشم لرې کولی.

إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿۱۱۵﴾

نه یم زه مګر ویروونکی ښکاره (یم کفّارو ته له جحیم نه).

تفسیر: یعنې ځما فریضه دا ده چې تاسې خبردار کړم، او دغه وظیفه مې اداء کړې ده، ستاسې د دغو چتې (بېکاره) او لغو غوښتنو پوره کول ځما په ذمه او غاړه نه دي.

قَالُوا لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ يٰنُوْحُ لَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْمَرْجُوْمِيْنَ ﴿۱۱۶﴾

وويل (كفارو) چې خامخا كه وانه وښتې (له دغو ويناوو څخه) اى نوحه؛ خامخا شې به ته هرومرو له ويشتل شويو (په تيږو ـ ګټو، يا په ښكنځلو).

تفسير: يعنې بس كړه او وروسته له دې نه پخپلو دغو پندونو او نصائحو ځمونږ غوږونه مه كنوه !، كه ته خپل له دغه وضعيت څخه لاس نه اخلې؛ نو خبردار اوسه چې ځمونږ له لورې به په ګټو سره ويشتل كېږې.

قَالَ رَبِّ اِنَّ قَوْمِيْ كَذَّبُوْنِ ﴿۱۱۷﴾ فَافْتَحْ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَّنَجِّنِيْ وَمَنْ مَّعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۸﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿۱۱۹﴾ ثُمَّ اَغْرَقْنَا بَعْدُ الْبَاقِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۲۱﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۲۲﴾

وويل (نوح) اى رب ځما ! بېشكه چې قوم ځما دروغجن وبللم زه. پس حكم فيصله وفرمايه په منځ ځما او د دوى كې په يو ډول حكم (او فيصله سره) او نجات راكړه ماته او هغه چا ته چې له ما سره دي له مؤمنانو (د منكرانو له شامته). پس نجات وركړو مونږ دغه (نوح) او هر هغه ته چې له دغه (نوح) سره وو په (هغې) بېړۍ كې چې ډكه وه (له ذوي الأرواحو څخه). بيا غرق كړ مونږ وروسته له (نجاته د بېړۍ د نوح) نور (قوم د نوح). بېشكه په دغه (صبر او غرق كې) خامخا لويه نښه ده (د قدرت او عبرت)، او نه وو زياتره د دوى مؤمنان. او بېشكه رب ستا خامخا هم دى ښه غالب قوي دى (په انفاذ د احكامو) ډېر رحم كوونكى دى.

تفسير: د دغې قصې تفصيل پخوا له دې نه په څو ځايونو كې تېر شوى دى، لنډه يې دا چې نوح عليه السلام وويل: اى ربه ځما ! بېشكه چې قوم ځما دروغجن وبللم زه، پس حكم او فيصله وكړه په منځ ځما او د دوى كې په يوه ډول حكم او فيصلې سره، يعنې ځما او د دوى په منځ كې عملي فيصله وفرمايه، اوس زه هيڅ هيله (اميد) او توقع نه لرم چې ګوندې دوى په سمه لاره راشي، او ځما خبره به ومني، نو نجات او ژغورنه (خلاصى) راكړه ماته او هغه چاته چې له ما سره دي له مؤمنانو !.

كَذَّبَتْ عَادُ نِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۲۳﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ هُوْدٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿۱۲۵﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۲۶﴾ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۲۷﴾ اَتَبْنُوْنَ بِكُلِّ رِيْعٍ اٰيَةً تَعْبَثُوْنَ ﴿۱۲۸﴾ وَتَتَّخِذُوْنَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُوْنَ ﴿۱۲۹﴾

نسبت د دروغو كړى وو عاديانو رسولانو ته. كله چې وويل دوى ته (قومي) ورور د دوى هود چې: آيا نه ويرېږئ تاسې (له عذابه د الله په شركٔ خپل؟). بېشكه زه يم تاسې ته رسول امانتګر. نو وويرېږئ تاسې له الله (په ځان ساتلو له معاصيو). او اطاعت وكړئ تاسې ځما (په شرعي امورو كې). او نه غواړم زه له تاسې نه پر دغه (تبليغ) هيڅ اجر (بدل، عوض)، نه دى اجر ځما مګر پر رب (پالونكي) د عالميانو دى. آيا جوړوئ تاسې پر هر هسكٔ (اوچت) ځاى (لويه لاره) نښه هسكه (اوچته) (چې په كې كښېنئ او) عبثيات كوئ (او ملنډې وهئ پر عابرينو؟). او جوړوئ (پاخه او كلكٔ) مصنوعات ښايي چې تاسې به تل اوسېږئ (په دنيا كې؟).

تفسير: دغه خلق د دې خبرې ډېر شوقيان وو، چې ډېرې هسکې (اوچتې) منارې «څلي» جوړ کړي، که له هغه ځنې بله څه ګټه او فائده په لاس ورنشي خو تش نوم به يې کيږي، او د خپلې هستوګنې مانې به يې هم مکلفې کلکې او مضبوطې جوړولې، او خامخا به يې خپل اموال پرې ضايع کول، او د هغه په هره برخه او څانګه کې به يې لوی مهارت او کاريګري څرګندوله (ښکاره کوله)، ګواکې دوی به داسې ګڼل چې دغه مانې او دغه يادګارونه او يادونې به تل ترتله همېشه باقي پاتې وي، او له سره به نه ورانيږي، ليکن نن وګورئ چې د دنيا په مخ کې د هغو نوم او نښه هم نه ده پاتې.

وَإِذَا بَطَشْتُم بَطَشْتُمْ جَبَّارِينَ ﴿١٣٠﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٣١﴾

او کله چې لاس اچوئ تاسې چاته؛ منګلې لګوئ په جبر (او ظلم سره). نو ووېرېږئ تاسې له الله (په ځان ساتلو له معاصيو) نه او اطاعت وکړئ تاسې ځما (په شرعي امورو کې).

تفسير: يعنې تاسې پخپل ظلم، ستم او تيري سره تر لاس لاندې کمزوران مه تنګ او خفه کوئ، ګواکې د انصاف، نرمۍ، پستوالي او ملاطفت لوست مو له سره نه دی لوستی چې دالله تعالى ضعيف مخلوق مو د ظلم او جبر او تعدّي مورد ګرځولی دی، راشئ ! له الله تعالى څخه ووېرېږئ !، او له ظلم تکبر او لويي څخه لاس واخلئ !، او ځما دغه خبره ومنئ !.

وَاتَّقُوا الَّذِي أَمَدَّكُم بِمَا تَعْلَمُونَ ﴿١٣٢﴾ أَمَدَّكُم بِأَنْعَامٍ وَبَنِينَ ﴿١٣٣﴾ وَجَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٣٤﴾ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣٥﴾

او ووېرېږئ تاسې له هغه (الله) چې احسان مددګاري يې کړې ده له تاسې سره په هغه څيز چې پوهيږئ پرې. مددګاري احسان يې فرمايلی دی پر تاسې په (اعطاء د) مواشيو او ځامنو او باغونو او چينو. بېشکه چې ويرېږم زه پر تاسې له عذابه د ورځې ډېرې لويې (د قيامت چې ډېر لوی دی عذاب يې که مخالفت وکړئ تاسې له مانه په شرعي امورو کې).

تفسير: يعنې تاسې خو دغومره فکر وکړئ او خپل عقل وچلوئ ! چې بالآخر دغه سازمان وسائل تاسې ته چا درکړي دي؟ آيا د هغه حقيقي منعم څه حق ستاسې په غاړه شته؟ که نه؟ که تاسې پخپلو دغو شرارتونو او سرکښيو کې دوام وکړئ؛ نو زه اندېښنه کوم او ويرېږم چې تاسې هم د پخوانيو اقوامو په شان په کوم سخت عذاب او آفت کې اخته او لتاړ (برباد) نه شئ ! وګورئ ما خو تاسې ته پوره پند او نصيحت درکړی دی، اوس تاسې خپلې آخرې خاتمې او انجام ته په نښه فکر او غور سره وګورئ !.

قَالُوا سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَوَعَظْتَ أَمْ لَمْ تَكُن مِّنَ الْوَاعِظِينَ ﴿١٣٦﴾ إِنْ هَٰذَا إِلَّا خُلُقُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٣٧﴾ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿١٣٨﴾

وويل (عاديانو هود ته) برابره (خبره) ده پر مونږ باندې، آيا پند راکړې (ته مونږ ته) يا که نه يې ته له پند راکوونکيو. نه دی دغه (موت او حيات يا وعظ او نصيحت د تا) مګر عادت خوی د پخوانيو (خلقو)، او نه يو مونږه چې په عذاب به کړی شو (په دغو چارو خپلو).

تفسير: يعنې ستا پند او نصيحت بيکاره دي مونږ په دغو خبرو نه متأثره کيږو او په هم هغه دود او طريقه چې زمونږ پلرونه او نيکه ګان تللي دي مونږ هم ځو او د عذاب د ويرولو څخه مونږ نه ويريږو.

فَكَذَّبُوهُ فَأَهْلَكْنَاهُمْ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٤٠﴾

پس تکذیب وکړ (عادیانو) د دغه (هود په دغه عذاب)، پس هلاک کړل مونږ دغو (عادیانو) لره، بېشکه په دغه (اهلاک د عادیانو کې) خامخا لویه نښه (د قدرت او د عبرت) ده، او نه وو زیاتره د دوی مؤمنان. او بېشکه رب ستا خامخا همدی ښه غالب قوي دی (په انفاذ د احکامو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسیر: پس هلاک کړل مونږ دغه عادیان، یعنې سخته سیلی او شدید باد یې ورولېږه، دغه قصه پخوا له دې نه د «الأعراف» په سورت او نورو ځایونو کې هم مفصّله تېره شوې ده.

كَذَّبَتْ ثَمُودُ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٤١﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ صَالِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٤٢﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٤٣﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٤٥﴾ أَتُتْرَكُونَ فِي مَا هَاهُنَا آمِنِينَ ﴿١٤٦﴾ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٤٧﴾ وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيمٌ ﴿١٤٨﴾ وَتَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا فَارِهِينَ ﴿١٤٩﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٥٠﴾

نسبت د دروغو کړی وو ثمودیانو رسولانو ته. کله چې وویل دوی ته (قومي) ورور د دوی صالح چې آیا نه ویرېږئ تاسې (له عذاب د الله په شرک خپل؟). بېشکه زه تاسې ته رسول یم امانتګر. نو وویرېږئ تاسې له الله نه (په ځان ساتلو له معاصیو) او اطاعت وکړئ ځما (په شرعي امورو کې). او نه غواړم زه له تاسې څخه پر دغه (تبلیغ) هیڅ اجر (بدل عوض). او نه دی اجر ځما مګر پر رب (پالونکي) د عالمیانو دی. آیا پرې به ښودل شوئ تاسې (بلکه پرې به نښودل شئ) په هغو (نعمتونو) کې (چې په دې دنیا کې تاسې ته حاصل دي) په امان (له آفاتو). په باغونو کې، او (په) چینو (کې). او په کښتونو (فصلونو) (کې). او (په) خرماګانو چې مېوه (وړې ـ شګوفه) د هغو لطیفه پسته وي. او کینئ (جوړوئ) تاسې له غرونو څخه (په غرونو کې) کورونه په دغه حال کې چې ماهران یئ په دغه مکلف توږلو سره. نو وویرېږئ تاسې له الله (په ځان ساتلو له معاصیو) او اطاعت وکړئ تاسې ځما (په شرعي امورو کې).

تفسیر: یعنې آیا څه خیال لرئ چې تل به په همدغه عیش، عشرت، باغ، بهار، آرامی او هوسایی (راحت) کې خوندونه او مزې کوئ؟ او غرونه به توږئ، او د هغو په مکلفو او ټینګو او مأمونو او مصئونو کورونو به کینئ؟ او له سره به له هغو څخه نه وځئ؟ یا دغه کلکې مضبوطې او ساتلې خونې (کورونه) به تاسې د الله تعالی د عذابه نجات درکړي؟، دغه چټې (بېکاره) اندېښنه له خپلو ماغزو څخه وباسئ !، او له الله تعالی څخه وویرېږئ؟ او ځما خبره ومنئ !، چې زه ستاسې د ښېګڼې (فائدې) او نېکۍ لپاره خبرې کوم.

وَلَا تُطِيعُوا أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾ الَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿١٥٢﴾

او مه منئ تاسې امر (حکم خبره) د اسراف کوونکیو (له حده تېرېدونکیو کفّارو). هغه مسرفان چې فساد کوي دوی په ځمکه (د حجر کې په ظلم او کفر سره)، او نه کوي اصلاح (د کار خپل چې عبادت وکړي او له فساده ځان وساتي).

تفسير: دغه يې عوامو ته فرمايلي دي چې تاسې په دغو لويو مفسدانو پسې مه ځئ !، او خامخا خپل ځانونه مه تباه کوئ !، ځکه چې هغوی خو په ځمکه کې د خرابۍ خوروونکي دي، اصلاح کوونکي او نېک صلاح ورکوونکي سړي نه دي.

قَالُوٓا۟ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلْمُسَحَّرِينَ ﴿١٥٣﴾ مَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا فَأْتِ بِـَٔايَةٍ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٥٤﴾

نو وويل (ثمودیانو) بېشکه همدا خبره ده چې ته له هغو (کسانو ځخه يې چې) سحر پرې کړل شوی وي (او له ډېره سحره مغلوب العقل ګرځېدلی وي) نه يې ته مګر يو بشر (انسان) يې په شان ځمونږ (که ته اصرار لرې په رسالت خپل) نو راوړه څه معجزه که يې ته له صادقانو رښتينو (په دغې دعوی کې).

تفسير: يعنې له مونږ ځنې کومه يوه خبره په تا کې زياته شته، چې ته په مونږ کې نبي ګرځېدلی يې، معلوميږي چې پر تا باندې چا جادو او کوډې کړي دي، چې د هغو په اثر ستا عقل زايل او بې هوشه شوی يې، (العياذ بالله) ته نه يې مګر يو سړی يې ځمونږ په شان، نو څه سبب دی چې ته پيغمبر شوې او مونږ نه شو؟ او که په دغه دعوی کلک ولاړ يې او په رښتيا سره ته نبي يې، او له مونږ ځنې ته ممتازه درجه لرې؛ نو د الله تعالی له طرفه مونږ ته داسې يوه معجزه راوښيه، چې مونږ د هغې په ليدلو سره ستا نبوّت ومنو، بيا نو دوی داسې غوښتنه وکړه چې له دغه غره د دغې غټې تيږې (ګټې) ځخه مونږ ته يوه اوښه راوباسه، چې پر دغسې او هغسې صفاتو مشتمله وي، صالح عليه السلام دعاء وفرمايله او الله تعالی په خپل کامل قدرت سره هغه د قدرت نښه هغوی ته وروښودله.

قَالَ هَٰذِهِۦ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿١٥٥﴾ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥٦﴾

وويل (صالح) دا اوښه ده (معجزه د نبوّت ځما په غوښتنه د تاسې)، دې ته برخه (د اوبو) ده، او تاسې ته برخه (د اوبو) د ورځې معلومې ده. او مه رسوئ تاسې دې (اوښې) ته هيڅ ضرر (که نه) پس وبه نيسي تاسې لره عذاب د ورځې لويې (د قيامت چې لوی دی عذاب يې).

تفسير: الله تعالی په خپل قدرت او د صالح عليه السلام په دعا سره له تيږې ځخه اوښه پيدا کړه، او صالح عليه السلام د اوښې او د خپل قوم د ځاروبو په منځ کې داسې مقرره کړه، چې يوه ورځ دې دغه اوښه اوبو ته لاړه شي، او بله ورځ دې نور ځاروي اوبو ځښلو ته لاړ شي، او ورته يې وويل چې: لاس مه وروړئ تاسې دې اوښې ته په بدۍ سره؛ که نه عذاب به درباندې نازل شي.

فَعَقَرُوهَا فَأَصْبَحُوا۟ نَٰدِمِينَ ﴿١٥٧﴾ فَأَخَذَهُمُ ٱلْعَذَابُ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٥٨﴾
وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٥٩﴾

پس زخمي کړه (ثموديانو) دغه اوښه، پس سبا ته وګرځېدل نادمان پښېمانه (په زخمي کولو د اوښې). پس ونيول دوی عذاب (نو هلاک شول)، بېشکه په دغه (ناقه او اهلاک د ثموديانو کې) خامخا لوی دليل (د قدرت او عبرت دی)، او نه وو زياتره د دوی مؤمنان. او بېشکه رب ستا خامخا هم دی دی نښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ډېر رحم کوونکی دی.

كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٦٠﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٦١﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٦٢﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ
وَأَطِيعُونِ ﴿١٦٣﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٤﴾ أَتَأْتُونَ الذُّكْرَانَ مِنَ
الْعَالَمِينَ ﴿١٦٥﴾ وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ ﴿١٦٦﴾

نسبت د دروغو کړی وو قوم د لوط رسولانو ته. کله چې وویل دوی ته ورور د دوی لوط: آیا نه ویریږئ تاسې (له عذابه د الله). بېشکه زه چې یم تاسې ته رسول یم امانتګر. نو وویریږئ له الله (په ځان ساتلو له معاصیو) نه. او اطاعت وکړئ ځما (په شرعي امورو کې). او نه غواړم زه له تاسې څخه پر دغه (تبلیغ) باندې هیڅ اجر (بدل، عوض). نه دی اجر ځما مګر پر رب (پالونکي) د عالمیانو دی. آیا راتګ کوئ تاسې (په لواطت کولو) نارینه وو ته له خلقو. او پرېږدئ تاسې هغه چې پیدا کړي دي تاسې ته رب ستاسې له ښځو ستاسې، بلکه تاسې چې یئ یو قوم یئ له حده تیریدونکی (له حلاله حرامو ته).

تفسیر: یعنې په ټول جهان کې یواځې نارینه ستاسې د شهوت بهولو لپاره پاتې وو، یا په ټوله دنیا کې یواځې همدا تاسې پر دغه شنیع فعل مرتکب کېږئ، چې د دغه خلاف الفطرت فعل په کولو د انسانیت له حدودو هم د باندې وتلي یئ.

قَالُوا لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ يَا لُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمُخْرَجِينَ ﴿١٦٧﴾

وویل (قوم د لوط) قسم دی خامخا که وانه وښتې (چپ نشوې له دغو خبرو څخه) ای لوطه ! نو خامخا شې به ته هرومرو له ایستل شویو (له دغه ښاره، یعنې وبه دې شړو له دې ځایه).

تفسیر: یعنې ای لوطه ! چپ شه ! او دومره وعظ پرېږده ! که ته پخپلو دغو غږېدلو سره خامخا مونږ په تنګوې؛ نو تا به له دغه کلي څخه د باندې وشړو.

قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُمْ مِنَ الْقَالِينَ ﴿١٦٨﴾

وویل (لوط) بېشکه زه له دې (بد) عمل ستاسې سره له بغض لرونکیو یم (او تړې بېزاره یم).

تفسیر: نو ځکه خامخا به زه پر دغه د نفرت اظهار کوم، او له نصیحت او پند ورکولو څخه به له سره نه چپ کېږم، کله چې لوط علیه السلام له خپل قوم څخه مأیوس شو؛ نو داسې دعا یې وکړه:

رَبِّ نَجِّنِي وَأَهْلِي مِمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٩﴾

ای ربه ځما ! نجات راکړه ماته او اهل ځما ته له (عذابه) د هغو کارونو چې دغه (قوم) یې کوي.

تفسیر: یعنې د دوی له نحوسته او وبال څخه مو وساته ! او دوی پرته (علاوه) له مونږه تباه او غارت کړه.

فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ ﴿١٧٠﴾ إِلَّا عَجُوزًا فِي الْغَابِرِينَ ﴿١٧١﴾

پس نجات ورکړو مونږ دغه (لوط) ته، او اهل د ده ټولو ته. مګر (نجات مو ورنه کړ) یوې بوډۍ ښځې ته چې په (جمله) د باقي پاتې کیدونکیو (په عذاب) کې وه.

تفسير: دغه بودې د ده ښځه وه، چې له دغو بدکارانو سره متحده او متفقه وه، نو کله چې د الله تعالى عذاب نازل شو؛ دا هم له هغو سره يو ځاى هلاکه او تباه شوه.

ثُمَّ دَمَّرْنَا الْآخَرِينَ ﴿۱۷۲﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَطَرًا فَسَاءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِينَ ﴿۱۷۳﴾

بيا هلاک کړل مونږ هغه نور. او ومو وراوه پر دوى باران (د کانړو)، پس بد باران د ويرول شويو (باران د دوى) وو.

تفسير: يعنې د هغوى کلى له يوه پلوه (طرفه) پر بل مخ واوړول شو، او له اسمانه پرې کانې ووورول شول، چې بالآخر د يوې غونډې په شان واوښتل، د دوى مفصّله قصه هم په «الأعراف» او په نورو ځايونو کې ليکلې شوې ده.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿۱۷۴﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿۱۷۵﴾ كَذَّبَ أَصْحَابُ لْـَٔيْكَةِ الْمُرْسَلِينَ ﴿۱۷۶﴾

بېشکه په دغه (اهلاک د قوم د لوط کې) خامخا لوى دليل (د قدرت او عبرت) دى، او نه وو زياتره د دوى مؤمنان. او بېشکه رب ستا خامخا هم دى ښه غالب دى (په انفاذ د احکامو) ډېر رحم کوونکى دى. نسبت د دروغو کړى وو صاحبانو د ځنګل (د ونو) رسولانو ته.

تفسير: ابن كثير (رحمه الله) ليكلي دي چې: «أصحاب الأيكه» هم هغه د مدين قوم دى، «أيكة» يوه ونه وه، چې دغو خلقو به د هغې ونې عبادت كاوه؛ نو په همدغه مناسبت دوى ته «أصحاب الأيكة» وايي، او د همدغه په سبب يې شُعيب عليه السلام ته د دوى د ﴿أَخُوهُمْ﴾ سره تعبير ونه فرمايه، ځكه چې د انبياوو أخوت به محض پر قومي او نسبي تعلّقاتو مبني وو، كه «مدين» يې فرمايلى وى؛ نو بيا د ﴿أَخُوهُمْ﴾ ويل موزون وو، «أصحاب الأيكة» يې فرمايلى، په يو مذهبي نسبت سره يې ذكر وكړو، نو په دغه حيثيت ﴿أَخُوهُمْ﴾ فرمايل د شُعيب عليه السلام له شانه سره مناسب نه وو، په هر حال «مدين» او «أصحاب الأيكة» يو قوم دى، او شُعيب عليه السلام د همدغه قوم په طرف مبعوث شوى دى، پخوا له دې نه هم د ده په متعلق څه بحث تېر شوى دى.

إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿۱۷۷﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿۱۷۸﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿۱۷۹﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿۱۸۰﴾ أَوْفُوا الْكَيْلَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُخْسِرِينَ ﴿۱۸۱﴾ وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ﴿۱۸۲﴾

كله چې وويل دوى ته شُعيب چې آيا نه ويريږئ (له عذابه د الله په شرک خپل). بېشکه زه چې يم تاسې ته رسول يم امانتګر. نو وويريږئ تاسې له الله او اطاعت وکړئ ځما (په شرعي امورو کې). او نه غواړم زه له تاسې څخه پر دغه (تبليغ) هيڅ اجر (بدل، عوض). نه دى اجر ځما مګر پر رب (پالونکي) د عالميانو دى. پوره ورکوئ تاسې پيمانه (کله چې چاته غله پيمانه کوئ) او مه کېږئ له کمو ورکوونکيو (د پيمانې) نه. او تول کوئ تاسې په تله برابره سره (او هيڅ کمى په هيڅ شان شي کې مه کوئ !).

تفسير: يعنې په معاملاتو کې خيانت او بې انصافي مه کوئ ! هم هغسې چې د اخيستلو په وخت کې يې پوره اخلئ، او په هم هغه شان سره يې تلئ او پيمانه کوئ، نو د ورکولو په وخت کې يې هم پوره تلئ او پيمانه کوئ !.

وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿۱۸۳﴾

او مه کموئ تاسې خلقو ته ځيزونه د دوی (او په هيڅ ځيز کې د دوی حقوق مه ستنوئ ! ـ منع کوئ)، او مه ګرځئ تاسې په ځمکه کې په دغه حال کې چې فساد کوونکي اوسئ.

تفسير: يعنې په ملک کې داړه مه اچوئ، او د خلقو حقوق مه تلف کوئ !.

وَاتَّقُوا الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْأَوَّلِينَ ﴿۱۸۴﴾ قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ ﴿۱۸۵﴾ وَمَا أَنْتَ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا وَإِنْ نَظُنُّكَ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿۱۸۶﴾

او وويرېږئ له هم هغه (الله) څخه چې پيدا کړي يې يئ تاسې، او خلق ړومبني. وويل (أصحاب الأيكه) بېشکه همدا خبره ده چې ته له سحر کړو شويو نه يې (چې له ډېره سحره دې عقل مغلوب شوی دی). او نه يې ته مګر يو بشر انسان په شان ځمونږ، او بېشکه شان دا دی چې مونږ ګمان کوو پر تا چې خامخا (ته يې) له (جمله) د دروغجنانو (په دغه دعوی خپله کې).

تفسير: يعنې د نبوّت په دعوی کې، او د عذابونو په انذار او نورو وعدو او وعيدو او خبرو کې.

فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِنَ السَّمَاءِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿۱۸۷﴾

پس راوغورځوه پر مونږ يوه ټوټه له اسمانه که يې ته له صادقانو رښتينو (په دغه دعوی خپله کې).

تفسير: يعنې که ته ای شُعيبه ! صادق او رښتين يې؛ نو د اسمان يا د ورېځو کومه ټوټه ولې پر مونږ باندې نه غورځوې؟ او نه مو پرې وژنې؟.

قَالَ رَبِّي أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿۱۸۸﴾

وويل (شُعيب) رب ځما ښه عالم دی په هغو کارونو چې تاسې يې کوئ (نو جزاء به درکړي په هغو).

تفسير: يعنې دغه خبره خو يواځې الله ته ښه معلومه ده، چې پر کوم جرم باندې به په کوم وخت او څومره سزا ورکړی شي؟ د عذاب نزول ځما کار نه دی، ځما کار يواځې دعوت تبليغ او ويښول دي، چې دغه مې انجام ته رسولی دی.

فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ إِنَّهُ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿۱۸۹﴾

پس نسبت د دروغو وکړ دغو (صاحبانو د ځنګل) هغه (شُعيب) ته، نو ونيول دوی عذاب د ورځې د سيوري، بېشکه چې دغه (عذاب) وه عذاب د ورځې ډېرې لويې (چې ډېر لوی دی عذاب يې).

تفسير: د سايوان په شان داسې ورېځ راغله، چې له هغه څخه اور اورېده، د لاندې په ځمکه کې سخته زلزله شوه، او يو سخت ويروونکی غږ او کريکه هم پورته شوه، او په دې ترتيب ګرد قوم تباه شو، دغه قصه پخوا له دې نه هم مفصّله تېره شوې ده، هلته دې بيا په هغو تفاسيرو يو نظر وغورځاوه شي !.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿۱۰۳﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿۱۰۴﴾ وَإِنَّهُ لَتَنزِيلُ رَبِّ
الْعَالَمِينَ ﴿۱۰۵﴾ نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ ﴿۱۰۶﴾ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ ﴿۱۰۷﴾

بېشکه چې په دغه (عذاب د صاحبانو د ځنګل) کې خامخا لوی دلیل (د قُدرت، او عبرت) دی، او نه وو اکثر د دوی مؤمنان. او بېشکه رب ستا خامخا هم دی دی بنه قوي غالب (په انفاذ د احکامو) ډېر رحم کوونکی دی. او بېشکه دغه (قرآن) خامخا نازل کړی شوی دی له (طرفه د) رب د عالمیانو (شعر سحر او باطلې قصي نه دي). نازل شوی دی په دغه قرآن سره روح امانتګر (یعنې راوړی دی دا قرآن جبریل الأمین). پر زړه ستا لپاره د دې چې شې ته له ویروونکیو (خلقو لره له عذابه د الله).

تفسیر: یعنې لوی قرآنکریم هغه مبارک او عظیم الشأن کتاب دی، چې رب العالمین نازل کړی دی، او د جبریل أمین علیه السلام په وسیله ستا پر پاک او صاف زړه لېږلی شوی دی، همدغه پاک زړه وو چې د الله تعالی په علم کې د دغه درووند امانت د پورته کولو او ساتلو وړ (قابل) او لایق وو، لکه چې قرآني وحي راغله، او سم ستا په زړه کې قرآني خبرو ځای ونیو.

تا هغه ټولې د خپل زړه په غوږونو سره واورېدې، او پرې وپوهېدې، او محفوظې دې په کې وساتلې، ښایي چې د ﴿عَلَىٰ قَلْبِكَ﴾ په لفظ کې دغه ته هم اشاره شوي وي، چې د وحي نزول داسې دوه کیفیتونه درلول (لرل) چې په صحیحه احادیثو کې وارد شوي دي، یعنې کله به د «صلصلة الجرس» په شان راتله، او کله به پرښتې مخامخ راتللې، او د انسان په شان به یې بالمشافه خبرې کولې، په دغو کې به د قرآن وحي أغلبًا په ړومبني کیفیت سره راتله.

بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ﴿۱۹۵﴾

په ژبه عربي ښکاره سره (راوړی دی دغه قرآن جبریل پر زړه ستا).

تفسیر: یعنې په نهایت فصیح، ملیح، لایح عربي ژبه کې یې نازل کړ، له دې ځایه معلومېږي چې له ﴿عَلَىٰ قَلْبِكَ﴾ څخه دغه مراد نه دی چې یواځې قرآني مضامین د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر زړه نازل شوي دي، او بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه پخپلو الفاظو سره اداء فرمایلي دي، بلکه الفاظ او معاني ټول سره یو ځای د رباني وحیې په وسیله د دوی پر مبارک زړه القاء شوي دي.

وَإِنَّهُ لَفِي زُبُرِ الْأَوَّلِينَ ﴿۱۹۶﴾

او بېشکه (مضامین د) دغه (قرآن) خامخا په کتابونو د ړومبنیو کې (هم لیکلي دي).

تفسیر: یعنې د لوی قرآن او د ده د محترم راوړونکي خبر په پخوانیو اسماني کتابونو کې موجود دی، پخوانیو انبیاوو پرله پسې دغه وړاندوینه او زېرې کړی دی، لکه چې سره له زیاتو تحریفاتو او تبدیلاتو لا تر اوسه هم د داسې وړاندوینو یوه ذخیره موندله کیږي، او داسې هم مطلب کېدی شي چې د دغه پاک قرآن اکثریه مضامین اجمالاً یا تفصیلاً په پخوانیو کتابونو کې موندل کیږي، خصوصًا توحید، رسالت، قصص او نور هغه مضامین چې په هغو کې ټول سماویه کتابونه او ګرد انبیاء او مرسلین علیهم السلام متّفق او متحد دي.

أَوَلَمْ يَكُن لَّهُمْ آيَةً أَن يَعْلَمَهُ عُلَمَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿١٩٧﴾

آيا نه ده دغو (کفّارو) ته دليل (په حقّانيت د قرآن دا خبره) چې پوهيږي پر دغه (قرآن) عالمان د بني اسرائيلو (او يقين پرې کوي بلکه لوی حجّت دی).

تفسير: يعنې د بني اسرائيلو علماء ښه پوهيږي چې دا هم د هغه کتاب او رسول الله دی، چې د هغه اطلاع په پخوانيو اسماني صحيفو کې ورکړی شوې وه، لکه د هغوی څخه ځينو علانيه او ځينو پخپلو مخصوصو مجالسو کې د دغه حق امر اقرار کړی دی، او ځينې انصاف خوښوونکي د همدغه علم په بناء مسلمان شوي هم دي، لکه عبد الله بن سلام او نور، الغرض د يوه منصف فهيم لپاره چې د هغه زړه د حق طالب وي، او له الله تعالی څخه هم ويريږي، په دغه څيز کې لوی دليل د قدرت او عبرت شته، چې د نورو مذاهبو علماء هم پخپلو زړونو کې د دغه عظيم الشأن قرآن په حقّانيت پوهيږي، اګر که د ځينو عللو او عواملو لامله په ځينو اوقاتو کې د هغه په اعلام او اقرار سره جرأت نشي کولی.

وَلَوْ نَزَّلْنَاهُ عَلَىٰ بَعْضِ الْأَعْجَمِينَ ﴿١٩٨﴾ فَقَرَأَهُ عَلَيْهِم مَّا كَانُوا بِهِ مُؤْمِنِينَ ﴿١٩٩﴾

او که ناز ل کړی وی مونږ قرآن پر ځينو عجميانو باندې. پس لوستلی وی (ځينو عجميانو) دغه (قرآن) پر دغو (کفّارو)؛ نو نه به وو دوی پر ده باندې ايمان راوړونکي.

تفسير: يعنې تاسې خو د عربو فصحاوو څخه يئ، ممکن دي د معظمې مکې مشرکان داسې ووايي، چې دغه قرآن به تا له خپله ځانه جوړ کړی وي، حال دا چې دغه قرآن د اعجاز هغه حد ته رسېدلی دی، چې د هغه مثل ټول انسانان او پېريان هم نشي جوړولی او راوړلی، خو بيا هم د ويلو لپاره دغسې يو احتمال پيدا کولی شي، ليکن د دوی د ضد، عناد، شقاوت او بدبختي حال دا دی چې فرض يې کړئ، که دغه قرآن پر کوم غير فصيح عرب يا داسې عجمي انسان باندې نازلېدی چې پر يوه حرف عربي ويلو هم قادر نه وی، بلکه په فرض محال سره پر کوم لا يعقل حيوان نازلېده؛ خو بيا هم دغه خلق د هغه منونکي نه وو، په دغه وخت کې به يې څه نور احتمالات پيدا کول.

كَذَٰلِكَ سَلَكْنَاهُ فِي قُلُوبِ الْمُجْرِمِينَ ﴿٢٠٠﴾ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِ حَتَّىٰ يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿٢٠١﴾ فَيَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٠٢﴾ فَيَقُولُوا هَلْ نَحْنُ مُنظَرُونَ ﴿٢٠٣﴾

همداسې ننه ايستلی دی مونږ دا (تکذيب د قرآن) په زړونو د مشرکانو (په قراءت د نبي عربي سره). نه راوړي دوی ايمان په دې (قرآن) تر هغه پورې چې ووينې دوی عذاب دردناک. پس رابه شي (دغه عذاب) دوی ته يو ناڅاپه حال دا چې دوی به نه پوهيږي. پس وايي به دوی آيا يو مونږ چې انتظار راته کاوه شي (چې ايمان راوړو؟، نو وبه ويلی شي ورته چې نه).

تفسير: شيخ الهند او ځينو نورو مفسرينو د ﴿سَلَكْنَاهُ﴾ ترجمه داسې کړېده: «همداسې ننه ايستلی دی مونږ دا عناد او انکار په زړونو د مشرکانو کې، الخ»، يعنې هغه انسان چې پر جرائمو او ګناهونو عادي شي، او خپلې ګردې قواوې په شرارت او سرکښۍ لګوي؛ نو الله تعالی هم سم له خپله عادته د ده زمام (واګې) ور سستوي، او د ده په زړه کې د انکار او تکذيب اثر ته ځای ورکوي، دغه تقرير د شيخ الهند (رحمه الله) له ترجمې سره سم وشو، ليکن ډېر مفسّرين د ﴿سَلَكْنَاهُ﴾ ضمير د قرآن په طرف اړوي، يعنې قرآن مو په دې ډول سره د مجرمانو په زړونو کې ورداخل کړی دی، چې دوی په خپلو زړونو کې ښه پوهيږي چې دغه له سره د بشر کلام نشي کېدی، خو بيا له ضده او عناده ايمان نه راوړي، او در ګرده تکذيب کوي، تر هغه پورې چې په دنيا يا آخرت کې دردناک عذاب پخپلو سترګو سره ووينې، نو هلته به

يې ومني، چې بېشکه نبي رښتين وو، او هغه کتاب چې له ځان سره يې راوړلی وو هم رښتيا وو، مګر دغه ويل به ورته هيڅ نفع نه ورسوي او چې کله د الله تعالى په عذاب ناڅاپه اخته شي نو بيا به د مهلت غوښتلو په شيبه کې شي ليکن دغه مهلت به ورته نه ورکول کيږي ځکه چې وخت يې تير شو.

أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿٢٠٤﴾ أَفَرَءَيْتَ إِن مَّتَّعْنَٰهُمْ سِنِينَ ﴿٢٠٥﴾ ثُمَّ جَآءَهُم مَّا كَانُوا۟ يُوعَدُونَ ﴿٢٠٦﴾ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يُمَتَّعُونَ ﴿٢٠٧﴾

آيا پس په راتلو د عذاب ځمونږ کې دوی جلتي کوي؟. آيا پس وينې ته خبر راکړه ماته که چېرې نفع ورکړو مونږ دوی ته څو کاله (په حيات سره). بيا راشي دوی ته هغه (عذاب) چې وو دوی چې وعده يې کړی شوې وه (له دوی سره). نو نه دفع کوي له دوی نه عذاب هغه شی چې وو دوی چې نفع ورکولی شوه دوی ته (په هغه باندې).

تفسير: يعنې سره د دومره مهلت او ډيل چې پخوا له دې نه دوی ته ورکړی شوی وو، هغه به يې هم په هغه وخت کې په کار نه ورځي، په دغه وخت کې د دغو ډېرو کلونو مهلت کالعدم ورښکاري، او داسې به ګڼي چې په رښتيا سره دوی ډېر ژر نيولي شوي دي: ﴿كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا﴾ (د النازعات سورت، (۲) رکوع، (۴۶) آيت، (۳۰) جزء).

وَمَآ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ﴿٢٠٨﴾ ذِكْرَىٰ وَمَا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٢٠٩﴾

او نه دی هلاک کړی مونږ هيڅ کلی (ښار) مګر چې وو هغه کلی او ښار ته ويرونکي (له عذاب د الله نه). لپاره د ذکر پند ورکولو دوی لره، او نه وو مونږ ظالمان (په هلاک د دوی کې).

تفسير: يعنې د کوم يو قوم د ژوندون خادر هم داسې نه دی ټول کړی شوی، بلکه پخوا د عذاب له نزوله کافي مهلت ورکړی شوی دی، او ويښوونکي، ويرونکي او هوښياروونکی نبي ورلېږلی شوی دی، څو خلق په غفلت کې پاتې نه شي، کله چې هغوی په هيڅ ډول د انبياوو خبرو ته غوږ نه دی نيولی؛ نو وروسته له هغه ګرد سره تباه او برباد کړی شوي دي، (العياذ بالله).

وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴿٢١٠﴾ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٢١١﴾

او نه دی راوړی دا (قرآن) شيطانانو. او نه ښايېږي دوی ته (دغه راوړل) او نه طاقت او قدرت لري (شيطانان د راوړلو د قرآن).

تفسير: يعنې دغه کتاب د الله تعالى له جانبه جبريل امين راوړی دی، د شياطينو راوړی شوی نه دی، آيا دغه خبره شياطينو ته کله ممکنه ده، چې د داسې کتاب يو توری هم هغوی وويلی شي؟ د دوی د طبائعو خاصه خو ضلالت او ګمراهي ده، او پرته (علاوه) له فساد او ظلمت خورولو څخه بل څه کار نه لري، او دغه کتاب له اوله تر آخره پورې له رشد او صلاح او د هدايت له نوره ډک دی، چې د دې تعليم په اثر داسې يو مقدّس جمعيت تيار شوی دی، چې د هغوی په شان د ځمکې پر مخ تر اسمان لاندې ما سوا له انبياء الله څخه بل کوم متقي، صادق، موحد، او خائف من الله جمعيّت نشته، نو دغه کتاب د علومو او معارفو هيڅ يوه رابطه او مناسبت د شيطاني طبائعو سره نه لري، او نه شيطان د دې خبرې وړ (مستحق) او لايق دی، چې دغسې يو عظيم الشأن متبرّک د امانت بار پر خپلو اوږو واخيستی شي.

إِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ لَمَعْزُولُونَ ﴿۲۱۲﴾

بېشكه دغه شيطانان له اورېدلو (د كلام د پرښتو) خامخا بر طرف منع كړى شوي دي.

تفسير: يعنې د قرآن د نزول په وخت كې د هغه د حفاظت لپاره داسې زوروړې غيبي پيرې درولې شوي دي، چې شياطين له سره هغه ته نشي ورنژدې كېدى، او نه يو توري يې له لارې تښتولى شي، كما قال الله تعالى: ﴿وَّأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ فَمَنْ يَّسْتَمِعِ الْآنَ يَجِدْ لَهُ شِهَابًا رَّصَدًا﴾ (۲۹ جزء، د الجن سورت (۱) ركوع (۹) آيت)، ﴿فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا﴾ (۲۹ جزء، د الجن سورت (۲) ركوع (۲۷) آيت)، ﴿لَّا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ ۖ تَنْزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ﴾ (د حم السجده سورت (۵) ركوع، (۴۲) آيت، (۲۴) جزء).

تنبيه: د شياطينو د غيبي خبرو د اورېدلو لپاره د كوښښ او د دوى ناكام پاتې كېدلو په متعلق د «حجر» د سورت په شروع كې مفصّل كلام كړى شوى دى؛ هلته دې ولوستل شي !.

فَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَتَكُونَ مِنَ الْمُعَذَّبِينَ ﴿۲۱۳﴾ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ ﴿۲۱۴﴾ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿۲۱۵﴾ فَإِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿۲۱۶﴾

پس مه بوله ته له الله سره معبود بل (حاكم، او كه دې داسې وكړه) پس شې به ته له عذاب وركړ شويو. او ويروه ته (له عذابه اى محمده ! هغه) خپلوان د تا چې ډېر نژدې دي (درته). او ښكته كړه وزر خپل (يعنې نرمي وكړه) هغه چاته چې متابعت يې كړى دى ستا له مؤمنانو نه. پس كه نافرماني وكړي (دغه خپلوان دې له تانه؛) پس ووايه ته (اى محمده ! دوى ته) بېشكه زه بېزاره يم له هغه (شرك او معاصي) چې كوئ يې تاسې.

تفسير: دغه يې فرمايلي دي محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم ته او اورولي يې دي نورو ته، يعنې كله چې دغه كتاب بلاشك او شبهه د الله تعالى له جانبه نازل كړى شوى دى، شيطان د يوې ذرې په اندازه هم په كې مداخله نه ده كړې، نو د قرآن پر تعليم تګ وكړه، چې په كې أصل الأصول توحيد دى، د شرك او كُفر او تكذيب لاره مه اختياروه، كه نه د الله تعالى له عذابه د نجات هيڅ لاره نشته، ځينو مفسّرينو دا خطاب عام كړى هر هغه چاته چې صلاحيت د مخاطبې د دې خطاب لري.

يعنې له نورو څخه پخوا خپلو اقاربو او خپلوانو ته تنبيه وركړئ، چې په خير غوښتلو كې د دوى حق مقدم دى، برسېره په دې د انسانانو د صداقت او حقّانيت امتحان او ازموينه هم د خپلو او اقاربو په معاملو كې اخيستل كېږي، شاه صاحب ليكي: «كله چې دغه آيت نازل شو؛ رسول الله صلى الله عليه وسلم ګردو قُريشو ته په زوره واوروه، آن تر عمې (ترور) او لور او اكا پورې يې هم ورساوه، چې د خپلو ځانونو لپاره فكر وكړئ، چې د الله تعالى په حضور كې تاسې مخامخ كيدونكي يئ، او زه هلته ستاسې لپاره هيڅ نشم كولى.

وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ ﴿۲۱۷﴾

او توكل وكړه (په ټولو مهماتو كې) پر ښه قوي غالب (په انفاذ د احكامو) ډېر رحم كوونكي.

تفسير: يعنې نافرماني كوونكى هر څوك چې وي، او هومره چې وي؛ ستا هيڅ نشي خرابولى، له ګردو څخه بېزاره او يواځې پر پاك الله تعالى اعتماد او اطمينان ولره، چې لوى زبردست ذات دى، او د هيچا هيڅ شى د ده په مقابل كې نشي چلېدى، او رحم او مهرباني كوونكى هم دى، لكه چې دى له خپلې مهربانۍ هر وخت پر تا د مهربانۍ نظر لري، او خپل رحمت او عنايت درباندې مبذولوي.

الَّذِي يَرَىٰكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٢١٨﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ ﴿٢١٩﴾

هغه (الله) چې وينې تا کله چې پاڅېږې يواځې (لپاره د تهجّد) او (هم وينې) ګرځېدل اوښتل راوښتل ستا (په صف د) ساجدانو کې.

تفسير: کله چې ته د لمانځه لپاره درېږې، او د جماعت په لمانځه کې نقل او حرکت رکوع او سجود او نور کوې، او د مقتديانو حال احوال ته ګورې.

إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٢٢٠﴾ هَلْ أُنَبِّئُكُمْ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ الشَّيَاطِينُ ﴿٢٢١﴾ تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴿٢٢٢﴾

بېشکه دغه (الله) هم دی دی ښه اورېدونکی (د ټولو اقوالو) ښه علم والا (په ټولو احوالو). آيا خبر درکړم زه تاسې ته (ای مشرکانو) په هغو (خلقو) چې کوزېږي شيطانان (پر هغوی). (بيا پخپله الله فرمايي) کوزېږي (شيطانان) پر هر ډېر دروغجن کذّاب ډېر ګناهګار.

تفسير: دلته بيا د قرآن په صدق او د شان پر عظمت تنبيه فرمايي، يعنې آيا داسې ويل کېدی شي چې (معاذ الله) شيطان پرې وحي راوړه؟ راځئ چې زه تاسې ته وښيم چې شيطاني وحي پر څه قسم خلقو نازليږي؟ هغه پر دروغجنانو بدمعاشانو او بدکارانو باندې راځي، ځکه چې شيطانان له رښتينو او نېکو انسانانو څخه بيخي مرور او بېزاره او هغوی ته په بده سترګه ګوري، او له هغو دروغجنانو دغابازانو مکارانو څخه خوښي او خوشالي کوي، چې د ده له مرضي سره برابر وي، ښه، له ګردو صادقانو څخه زيات صدّيق او له ګردو نېکانو څخه زيات نېک او متقي انسان د شيطاني وحي سره څه نسبت لري؟ د رسول الله صلى الله عليه وسلم صدق، امانت، اتقاء، طهارت، خوف عن الله خو هغه عالي اوصاف دي، چې د صباوت له وخته د نبوّت تر مدّت پورې د ده ګرد قوم هغه منلي دي، او تسليموي يې، تر دې چې «الصادق الأمين» لقب د همدغو له جانبه همدوی ته ورکړی شوی وو.

يُلْقُونَ السَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ كَاذِبُونَ ﴿٢٢٣﴾

چې وړدي (دا شيطانان) غوږ (خبرو د پرښتو ته) او اکثر د دوی دروغجنان دي. (يا غورځوي شيطان خپلې اورېدلې شوې خبرې له ملائکو کاهنانو ته چې افّاک اثيم دی، او زياتره د دوی دروغجنان دي، چې زياترې خبرې يې دروغ دي).

تفسير: يعنې شياطين د غيبي امورو څخه د يوه نه يوه جزئي امر د خبرو په متعلق کوم شيان له ورا د تښتېدلو په منځ کې اوري، په هغو کې سل نورې خبرې له خپله ځانه ګډوي، او بيا هغه خپلو کاهنو دوستانو ته رسوي، دغه د دوی د وحي حقيقت دی، پر خلاف د دې د انبياوو وحي داسې منظمه او مرتبه محفوظه ده، چې د هغې يو حرف يو حرکت هم نشي پاتې کېدی، ځينو د ﴿يُلْقُونَ السَّمْعَ﴾ معنی داسې اخيستې ده، چې شياطين د ملأ الأعلى په طرف غوږ وړدي، که کومه غيبي خبره يا غږ يې غوږ ته ورسيږي، يا دروغجنو ګناهګارانو د شيطان خوا ته غوږونه نيولي وي، که کومه خبره له هغوی ځنې واوري، او بيا ژر تر ژره يې خوروی کوي.

وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُونَ ﴿٢٢٤﴾

او (کافران) شاعران متابعت کوي د دوی ناپوهان (بې لارې).

تفسير: کافرانو به رسول الله صلى الله عليه وسلم ته (استغفر الله) کله کاهن، کله شاعر ويل؛ نو دلته فرمايي چې د شاعرۍ خبرې محض تخيّلات دي، او له تحقيق سره بيخي تعلّق نه لري، نو ځکه په هغه خبره کې ماسوا د مجالسو د تودوالي او

د خوښې او ساعت تېرې او چرچې او واه واه ویلو بل کوم مستقل هدایت نه دی، حال دا چې د دغه رسول الله صلی الله علیه وسلم د پاک صُحبت په میمنیت او د دغه قرآن په برکت په زرهاوو سړیو د نېکۍ او هدایت لارې موندلي دي.

أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِي كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ ﴿٢٢٥﴾

آیا نه وینې ته چې بېشکه دوی (شاعران) په هرې کندې او هرې پندې د (خبرې) کې سرګردانه ګرځي (او ښکته په کې ډوبیږي، او پروا نه کوي چې دا حق دی که باطل).

تفسیر: یعنې هر مضمون چې د دوی په لاس کې ولوېد؛ نو دوی هغه پسې اوږدوي، که د چا په تعریف او ستاینه (صفت) کې ولګېدل؛ نو هغه اسمان ته خېژوي، او که د چا په مذمّت کې لګیا شول؛ نو د ټولې دنیا عیوب او مذمّت په هغه کې راټولوي، موجود معلوم ګرځوي، او له معدوم څخه یو خورا ډېر ثابت او معلوم او موجود منظوموي، الغرض دروغ، مبالغه، تخیّل د دوی د کین لاس معمولي لوبې دي، په هره صحراء او بیدیا کې چې یو ځلې دوی سم شي، بیا نو دوی ببرته مخ ګرځوونکي نه دي، نو ځکه د اشعارو په نسبت مشهور دي چې: «أكذبه أحسنه»، څومره چې شعر دروغجن وي هم هغومره ښائسته ګڼل کیږي.

وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴿٢٢٦﴾

او بېشکه دغه (شاعران) وایي هغه چې نه یې کوي دوی.

تفسیر: یعنې کله چې اشعار لولي؛ نو داسې درښکاري چې د ده قائل به له ځمري څخه زیات زړور وي، او کله چې ویې ګوري؛ نو په انتهایي درجه ډارن، بې زړه او جبان درښکاري، او کله بالعکس چې دوی وګوري؛ روغ رمټ پیاوړي (تکړه) او مضبوط درښکاري، ولې د دوی د اشعارو له لوستلو څخه داسې درڅرګندیږي (درښکاریږي) چې د دوی روح قبض شوی، یا یې نبضین له حرکته لویدلي دي، او اوس به مري.

الغرض د الله تعالی دغه معظّم رسول چې خاتم الأنبیاء دی د دغه جماعت سره هیڅ علاقه او ارتباط نه لري، او له همدغه جهته یې فرمایلي دي: ﴿وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنبَغِي لَهُ﴾، د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم هره خبره سره کره، جوته، رښتیا، حقه او روښانه، او د تحقیق، عدل او انصاف په میزان کې تللې شوې وه، هره خبره چې د دوی له مبارکې ژبې څخه وته؛ هم هغه به عملاً لېدلې کېده، آیا شاعر د داسې صفاتو خاوند دی؟ او شاعر هم دې ته ویلی شي؟ کلاّ وحاشا، ثمّ کلاّ وحاشا.

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانتَصَرُوا مِن بَعْدِ مَا ظُلِمُوا ۗ وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾

مګر (نه دي مذموم) هغه (شاعران) چې ایمان یې راوړی دی، او کړي یې دي ښه (عملونه)، او یادوي دوی الله ډېر، او بدل اخلي (له کفّارو په هجو د کفّارو) وروسته له هغه چې ظلم کړی شوی وي (پر هغو)، او ژر به پوه شي هغه کسان چې ظلم یې کړی دی؛ چې کوم ځای ته به ببرته لاړ شي دوی (یعنې بد ځای ته به لاړ شي پس له مرګه).

تفسیر: مګر هغه څوک چې په هر شعر کې د الله تعالی حمد ووایي، یا د نېکۍ په لوري ترغیب ورکړي، یا د کفر مذمّت یا د ګناه خرابي څرګنده (ښکاره) کړي، یا د هغو کافرانو هجو او بدي ووایي، چې د اسلام هجو کوي، یا که څوک ده ته ایذاء او ضرر ورسوي؛ د هغه څواب د اعتدال په اندازه ورکړي؛ نو داسې شعر ویل نه دي مذموم، لکه

چې حسّان بن ثابت رضي الله تعالى عنه او نورو په همداسې اشعار ويل، نو ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم پر ده امر صادر کړ، چې د کفّارو جواب ورکړه، روح القُدس ستا سره دی.

د ﴿مِنۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُواْ﴾ په مناسبت يې وفرمايل چې: ظالمانو ته به عنقريب خپله آخره خاتمه او انجام معلومیږي، چې د دوی اوښ پر کومه ډډه پرپوځي؟ له کردو څخه زيات ظلم دا دی چې د الله تعالى کتابونو او انبياوو ته د دروغو نسبت کوي، او په کاهن او شاعر ويلو سره يې تکذيب کوي.

تمت سورة الشعراء بفضل الله تعالى وحسن توفيقه.

سُورَةُ النَّمْلِ

«د (النمل) سورت مکي دی، (۹۳) آیتونه (۷) رکوع لري، په تلاوت کې (۲۷) او په نزول کې (۴۸) سورت دی، وروسته د (الشعراء) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

طس ۚ تِلْكَ آيَاتُ الْقُرْآنِ وَكِتَابٍ مُّبِينٍ ﴿١﴾ هُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢﴾ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴿٣﴾ إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمْ أَعْمَالَهُمْ فَهُمْ يَعْمَهُونَ ﴿٤﴾

دا (آیتونه د دې سورت) آیتونه د قرآن، او د کتاب مبین (ښکاره بیانوونکي) دي. (دغه قرآن) سمه صافه لاره ښوونکی دی (ټول جهان ته) او زېری ورکوونکی دی مؤمنانو ته (په نعیم سره). هغه (مؤمنان) چې قائموي (سم اداء کوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ، او ورکوي زکات (د اموالو خپلو)، او دوی په (ورځې) آخرې (چې قیامت دی) هم دوی یقین کوي (چې خامخا به راشي په حقه سره). بېشکه هغه کسان چې نه راوړي ایمان په (ورځې) آخرې (چې قیامت دی)؛ ښایسته کړي دي مونږ دوی ته (قبیحه) عملونه د دوی، پس دوی حیران سرګردانه دي (په دغو بدو اعمالو خپلو کې).

تفسیر: یعنې هر هغه څوک چې له ده سره د آخرې خاتمې او انجام فکر او اندېښنه نه وي؛ نو هغه دې د همدغې فاني دنیا په فکر او اندېښنه کې ډوب پروت وي، او د ده د ګردو کوښښونو مرکز همدغه څو ورځنی دنیوي ژوندون دی، او د هغه کتاب او نبي په طرف له سره نه ګوري، چې د دوی مخ له هغه فاني طرف نه د عاقبت او باقي ژوندون په طرف اړوي او متوجه کوي یې، او نه ورته فکر او توجّه کوي، دوی په دنیوي عیش او مینه کې داسې غرق او ډوب تللي دي، چې د هادیانو خبرو ته له سره غوږ نه ږدي، بلکه پر دوی مسخرې کوي او ملنډې وهي، پر اسماني صحائفو طعنې وي، او پر انبیاوو مزاح کوي، او همدغه وضعیت پخپل فکر او زعم ښه بولي، او پرله پسې په همدغې ګمراهۍ کې ترقي او پرمختګ کوي.

تنبیه: د «تزیین» نسبت د الله تعالی په طرف له دې حیثیته شوی دی، چې د هر شي خالق او مالک همدی دی، پر کوم سبب باندې د مسبب ترتّب بې د ده د مشیت او ارادې څخه نشي کېدی، لکه چې په نورو ځایونو کې د اضلال، د ختم، د طبع او د نورو نسبت هم ده ته شوی دی.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَهُمْ سُوءُ الْعَذَابِ وَهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْأَخْسَرُونَ ﴿٥﴾

دا هم هغه کسان دي چې مقرر دی دوی ته ډېر بد عذاب (په دنیا کې) او دوی په آخرت کې هم دوی زیانکاران دي.

تفسیر: یعنې هلته به له ګردو څخه زیات همدوی په نقصان او خساره کې پراته وي.

وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْآنَ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ عَلِيمٍ ﴿٦﴾

او بېشکه ته (ای محمده !) خامخا درښوولی کيږي (دررسيږي) تاته قرآن له نزده د ښه حکمت والا ښه علم والا (چې الله دی).

تفسير: يعنې دغه بدبختان پرېږده چې د ضلالت په تيه (ميره) کې سرګردانه وګرځي، کله چې دوی د عظيم الشأن قرآن قدر او عزت ونه پېژنده، او د ده د هدایاتو او بشاراتو څخه يې فائده وانخيستله؛ نو ښايي چې د دوی حال او احوال همداسې کېدی، تاسې الله تعالی ته شکر وکړئ، چې د دغه عليم او حکيم له جانبه له ټولو ځنې زيات عظيم الشأن کتاب (قرآن) تاسې ته مرحمت شوی دی، چې له هغه څخه تل تاسې ته جديد جديد فوائد دررسيږي، او په هغه کې مؤمنانو ته بشارات او مکذبانو ته عبرتناکه واقعات اورول شوي دي، څو د صادقانو زړونه مضبوط او قوي او د دروغو حمايت کوونکي پر خپلې بدې خاتمې او خراب انجام مطلع شي، لکه چې په همدې غرض وروسته له دې نه د موسی عليه السلام او د فرعونيانو قصه اوروله کيږي.

إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهْلِهِ إِنِّي آنَسْتُ نَارًا

(ياد کړه) هغه وخت چې وويل موسی ښځې خپلې ته بېشکه چې ما وليد يو اور (له لرې).

تفسير: دغه له «مدين» نه د راتګ په وخت کې څه وخت چې دوی «وادي» ته ورنژدې شو، کله چې يې په يوه يخه توره تياره شپه کې لاره ورکه کړې وه، د موسی عليه السلام وينا ده چې له خپلې ښځې سره يې کوي، د دغه مفصله قصه د «طه» د سورت په تفاسيرو کې پخوا تېره شوې ده، هلته دې بيا ولوستی شي.

سَآتِيكُم مِّنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ آتِيكُم بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَّعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴿٧﴾

ژر به راوړم تاسې ته له دې (ځای د اوره) خبر (حال د لارې) يا به راوړم تاسې ته لمبه لګولې (په سر د پلټې يا لرګي) لپاره د دې چې تاسې تاوده شئ (په هغه اور).

تفسير: يعنې د لارې خبر او پته تاته راوړم که دغه اور سره نژدې څوک وي، که نه اقلا ستاسې د تودېدلو لپاره کومه لمبه يا ځکروټه به راوړم.

فَلَمَّا جَاءَهَا نُودِيَ أَن بُورِكَ مَن فِي النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا ۖ وَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٨﴾

پس کله چې راغی دغه (موسی) هغه (اور) ته ؛ غږ وکړ شو داسې چې برکتناک کړی شوی دی هغه چې په دغه اور کې دی، او هغه چې چاپېر دی له دغه (اوره)، او (غږ وکړ شو چې) پاکي ده الله ته چې رب (پالونکی) د عالميانو دی.

تفسير: کله چې موسی عليه السلام هلته ورسېد؛ دغه خبره ورته معلومه شوه، چې دغه دنيوي اور نه دی، بلکه غيبي او نوراني اور دی، چې په هغه کې د الله تعالی د انوارو آثار څرګندیږي (رابسکاره کيږي)، ښايي چې دغه به هم دا وي چې په حديث کې د هغه په نسبت فرمايلي شوي دي: «حجابه النار»، يا «حجابه النور»، بيا پرې غږ وشو: ﴿أَن بُورِكَ مَن فِي النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا﴾ يعنې د ځمکې دغه ټوټه مبارکه ده، او په دغه اور کې چې کومه تجلّي ده؛ هغه هم مبارکه ده، او د ده په منځ او شاوخوا کې کوم ذوات چې دي؛ هغوی ګرد مقدس دي، مثلاً پرښتې، يا پخپله موسی عليه السلام، هغه ګرد سره مبارک دي، دغه يې اغلبًا د موسی عليه السلام د مأنوس ګرځولو او د اعزاز او اکرام لپاره فرمايلي دي.

يٰمُوسٰٓى اِنَّهٗٓ اَنَا اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٩

ای موسی ! شان دا دی چې زه یم الله ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوم).

تفسیر: یعنې په دغه وخت کې له تا سره زه پخپله غږېدونکی یم.

وَاَلْقِ عَصَاكَ ۭ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا جَاۗنٌّ

او غورځوه همسا خپله (نو یې وغورځوله)، پس کله چې ولیدله (موسی) هغه (همسا) چې خوځېدله؛ ګواکې دغه (همسا) یو نری سپین ځغاستونکی مار دی.

تفسیر: ښایي په ابتداء کې به نری وي، یا به د حرکت د سرعت لامله دغه تشبیه ورکړی شوي وي، نه د جُثې د صغارت لامله.

وَّلّٰى مُدْبِرًا وَّلَمْ يُعَقِّبْ ۭ يٰمُوْسٰٓى لَا تَخَفْ ڰ اِنِّىْ لَا يَخَافُ لَدَيَّ الْمُرْسَلُوْنَ ۝١٠

نو مخ یې ترې وګرځاوه په شا تلونکی، او راونه ګرځېده ببر ته، (نو بیا غږ ورته وشو) ای موسی ! مه ویرېږه (له دې ماره)، ښکه زه چې یم نه ویرېږي په نزد ځما مرسلان (پیغمبران ـ له هیڅ شي نه).

تفسیر: یعنې مرسلانو ته نه دي لایق چې وروسته ځمونږ د قرب دربار د رسېدلو څخه له همسا یا مار یا د بل کوم مخلوق څخه وویرېږي، په دغه مقام کې ښایي چې د دوی زړونو ته انتهایي سکون او طمأنینت حاصل شي.

تنبیه: دغه طبیعي خوف دی، چې د نبوّت سره څه منافات نه لري.

اِلَّا مَنْ ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًۢا بَعْدَ سُوْۗءٍ فَاِنِّىْ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝١١

لیکن هغه څوک چې ظلم یې کړی وي (په ځان خپل) بیا بدل راوړي نیکي وروسته له بدۍ (چې په صدق سره ثابت شي)؛ پس ښکه زه ښه بخښونکی یم (د خطیاتو) ډېر رحم کوونکی یم.

تفسیر: دغه منقطع استثناء ده، یعنې وروسته له دې نه چې د الله تعالی قرب ته ورسېدې؛ تاته هیڅ وېره او اندېښنه نه ده په کار، خوف او اندېښنه یوائې هغه چاته په کار ده چې کومه ګناه یا خطا یا تقصیر یې کړی وي، چې د هغه په نسبت هم ځمونږ په دربار کې داسې قاعده شته، چې وروسته له ګناه که کوم سړی په صدق او اخلاص سره توبه وباسي، او خپل اعمال او احوال اصلاح او درست کړي، او د نېکیو او حسناتو په وسیله خپله بدي او سیئات محو او ورک کړي؛ نو الله تعالی یې پخپل رحمت سره معافوونکی دی.

وَاَدْخِلْ يَدَكَ فِىْ جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاۗءَ مِنْ غَيْرِ سُوْۗءٍ ڰ فِىْ تِسْعِ اٰيٰتٍ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهٖ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ۝١٢

او ننباسه لاس خپل په ګرېوان خپل کې؛ نو وبه وځي (په خلاف د طبیعي لون خپل) تک سپین بې له کومه عیبه (او مرض)، پس سره له دې دواړو معجزو چې حساب دي) په نهو معجزو ستا کې (ورشه) طرف د فرعون ته او قوم د ده ته، ښکه دوی دي یو قوم فاسقان (وتونکي له فرمان).

تفسیر: د دغو معجزاتو بیان د «بني اسرائیل» په سورت کې د ﴿وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى تِسْعَ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ فَسْـَٔـلْ بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ اِذْ جَاۗءَهُمْ﴾ الآیة ـ آیت لاندې لیکلی شوی دی، هلته دې ولوستل شي !.

فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ ءَايَٰتُنَا مُبْصِرَةً قَالُوا۟ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١٣﴾ وَجَحَدُوا۟ بِهَا وَٱسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا ۚ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿١٤﴾

پس کله چې راغلل (فرعون او فرعونیانو ته) آیتونه (معجزې د قدرت) ځمونږ ښکاره روښانې؛ نو وویل دوی چې: دغه سحر (کوډې) دی ښکاره. او منکران شول دوی په دغو (آیتونو)، حال دا چې یقین کړی وو په دغو معجزاتو نفسونو د دوی (چې حق او له جانبه د الله دي، لیکن انکار ترې وکړ دوی) له جهته د ظلم او سرکښۍ، پس وګوره څرنګه وو عاقبت (آخره خاتمه) د مفسدانو (من الغرق والحرق).

تفسیر: یعنې کله چې وقتًا فوقتًا د دوی د سترګو د خلاصولو لپاره هغه معجزې ورښودلې کېدې؛ نو دوی به ویل چې: دغه ګردې کوډې او جادو دی، حال دا چې د دوی په زړونو کې په یقیني ډول سره دغه خبرې ځای نیولی وو، چې موسی علیه السلام رښتین دی، او دغه معجزې چې رابنیي یقینًا د الله تعالی د قُدرت دلائل دي، سحر، جادو، شعبذه، نظر بندي او بل کوم باطل شی نه دی، او تش د بې انصافی، غرور او تکبر لامله عمدًا او د خپل ضمیر په خلاف د حق تکذیب او له صدق څخه دوی انکار کاوه، بیا نو څه وشو؟، څو ورځې وروسته له دې نه دغه خبره ورمعلومه شوه چې د داسې ضد کوونکیو معاندانو مفسدانو انجام او عاقبت څه کیږي؟ دوی ټول د قُلزم د بحیرې د امواجو یوه ګوله شول، او هیڅ یوه ته یې ګور او کفن هم نه شو ورپه برخه.

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ عِلْمًا ۖ وَقَالَا ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى فَضَّلَنَا عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّنْ عِبَادِهِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٥﴾

او خامخا په تحقیق ورکړی وو مونږ داود ته او سلیمان ته یو خاص علم، او وویل دواړو چې: ټولې ثناوې ستاینې (صفتونه) دي الله ته، هغه چې مشرتیا (فضیلت) یې راکړی دی مونږ ته پر ډېرو له (هغو) بندګانو خپلو چې مؤمنان دي.

تفسیر: سُلیمان د داود علیهما السلام ځوی وو، دغه پلار او ځوی ته هر یوه ته الله تعالی علم ورعطاء کړی وو، شرایع، احکام، د سیاست اصول، حکومت چلول او نور ګرد علوم د دې لفظ لاندې داخل شول، هغه علم چې الله تعالی داود او سلیمان علیهما السلام ته ورکړی وو؛ د هغه اثر دا وو چې دوی د الله تعالی د انعاماتو شکر اداء کاوه، د الله تعالی د کوم نعمت شکر اداء کول د هغه اصلي نعمت څخه لوی نعمت دی.

«پر ډېرو» یې ځکه وفرمایل؛ چې ډېرو نورو بندګانو ته الله تعالی پر دوی فضیلت ورکړی دی، پاتې شو پر ګردو مخلوقاتو کلي فضیلت لرل؛ نو دغه انعام او اکرام په ګردو انسانانو کې ځمونږ سید الکونین خاتم المرسلین فخر الأولین والآخرین محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په برخه شوی دی، اللهم صل وسلم وبارك علیه وعلی آله وأصحابه أجمعین.

وَوَرِثَ سُلَيْمَٰنُ دَاوُۥدَ

او میراث واخیست سلیمان (نبوّت، علم، سلطنت) له داود څخه (له نوره اولاده یې).

تفسیر: یعنې د داود علیه السلام په ځامنو کې د ده اصلي ولي عهد او خلیفه سُلیمان علیه السلام شو، چې د ده په مبارک ذات کې الله تعالی نبوّت او سلطنت دواړه جمع کړي وو، او داسې مملکت او حکومت یې ورعطاء کړی وو، چې له ده څخه وړاندې او وروسته د بل چا په برخه کې داسې یو صوري او معنوي، ظاهري او باطني عظمت او شوکت نه دی جمع شوی، انسانان، پیریان، طیور، هوا، او نور ټول ورته مسخّر شوي وو، لکه چې د «سبأ» په سورت کې راځي.

وَقَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ عُلِّمْنَا مَنطِقَ ٱلطَّيْرِ

او وويل (سُليمان) ای خلقو ! ښوولې شوي دي مونږ ته خبرې د الوتونکيو مرغانو.

تفسير: له دغې خبرې څخه انکار ګواکې د بداهت څخه د انکار په منزلت دی چې طيور او پرندګان کومې خبرې او چړپړ چې کوي، په هغه کې تر يوه حده پورې د افهام او تفهيم شان موندلی کيږي، يو مرغه څه وخت چې خپله جوړه ځان ته رابولي، يا د دانې ورکولو لپاره خپلو نورو ملګرو ته هم خبر ورکوي؛ په دغو ګردو حالاتو کې د ده بولي، لهجه او غږېدل له سره يو شان نه دي، لکه چې د طيورو مخاطبين او سامعين دغه فرق او توپير په ښه شان سره محسوسولی شي، نو له دې نه مونږ پوهېدی شو، چې د نورو احوالو او ضروریاتو په وخت کې هم د دوی په دغو چوپېدلو کې اګر که مونږ ته ډېر متشابه او متقارب هم راښکاره شي، کوم داسې لطيف او خفيف تفاوت او توپير به ضرور وي، چې پر هغه باندې به دوی پخپلو منځونو کې سره پوهيږي.

د حيواناتو لپاره د جزئي ادراکاتو حصول خو لا له پخوا څخه مسلّم دی، ليکن د اوروپا جديد تحقيقات اوس د حيواناتو عاقليت د آدميت تر سرحد پورې قريب کړی دی، تر دې چې د حيواناتو د بولۍ (وينا) د «ابجدو» په تيارولو پسې هم لګيدلي دي.

لوی قرآن خبر راکړی دی چې: «هر شی د خپل رب تسبيح او تحميد کوي، ليکن تاسې پرې نه پوهېږئ، او هر الوتونکی خپل د صلات او تسبيح څخه واقف دی»، په صحيحو احاديثو کې د حيواناتو تکلّم بلکه د محضو جماداتو خبرې کول او تسبيح ويل ثابت دي.

وَأُوتِينَا مِن كُلِّ شَيْءٍ ۖ

او راکړی شوي دي مونږ ته له هر څيز څخه (چې انبياوو او باچايانو ته ورکاوه شي).

تفسير: يعنې د داسې عظيم الشأن سلطنت او نبوّت لپاره هغه اشياء، لوازم او سامان چې په کار دي؛ هغه ګرد يې راعطاء کړه.

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٦﴾ وَحُشِرَ لِسُلَيْمَٰنَ جُنُودُهُۥ مِنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ وَٱلطَّيْرِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٧﴾

بېشکه دغه (عطاء) خامخا همدغه فضل فضيلت دی ښکاره. او جمع کړی شوې لپاره د سُليمان لښکرې د ده، له پيريانو او (له) انسانانو او (له) مرغانو، بيا به د دوی ډلې ترلې کېدلې (په ترتيب سره).

تفسير: هر کله به چې سُليمان عليه السلام کوم طرف ته تلو؛ نو د انسانانو، پيريانو او د طيورو د درې واړو اقسامو لښکر به يې له خپله ځانه سره حسب الضرورت او مصلحت بوتلو، او د دوی په دغو افواجو کې به يو ځانته نظم نسق او انضباط قائم وو، مثلاً وروستني افواج به سره له خپلو ګرځندي تللو يا الوتلو خپلو له ړومبنيو افواجو څخه نشو وړاندې کېدی، او نه به هيڅ يو لښکري فرد داسې کولی شو، چې خپله پيره يا وظيفه په خپل سر خوشې کړي، او چېرې لاړ شي، لکه چې نن ورځ په بري، بحري او فضايي قواوو کې پوره نظم، نسق او د عمل اشتراک ليدل کيږي.

حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوْا عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمْلِ

تر هغه پورې چې راغلل دوی پر کنده د ميږيو،

تفسير: يعني سُليمان عليه السلام له خپل لاو لښکر سره له داسې يو ميدان څخه تېرېده، چې هلته د ميږيانو ډېره لويه ودانې وه.

تنبيه: په کوم ځای کې چې ډېر ميږيان سره راټول شي، او هلته په خپل ذوق او سليقه کورونه جوړ کړي؛ هغه ته په عربي ژبه «قرية النمل» وايي، يعني «د ميږيانو کلی»، مفسّرانو په مختلفو بلادو کې د داسې ميدانونو او بيدياګانو نښه او پته لګولې ده، چې هلته د ميږيانو خورا زيات کورونه او کلي شته، چې د دغو له منځه پر يوه باندې حسب الاتفاق د سُليمان عليه السلام ګزر شوی وو.

قَالَتْ نَمْلَةٌ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمْلُ ٱدْخُلُوا۟ مَسَٰكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١٨﴾

نو وويل يوه ميږي (چې مشر وو پر نورو): اى ميږيو ! ننوځئ ټول مساکنو ـ سوړو خپلو ته چې مات او چيت پيت مو نه کړي هرومرو تاسې سليمان او لښکر د ده، حال دا چې دوی به نه وي پوه (د تاسې له دې پايمالېدو نه).

تفسير: يعني سليماني لښکر خو داسې نه دی چې عمدًا او په قصد سره تاسې وژني، هو ! امکان لري چې د لاعلمی او ناپوهی په سبب پايمال شئ، شاه صاحب ليکي: «د ميږي غږ هيڅ يو انسان نشي اورېدی، خو د سُليمان عليه السلام غوږ ته د دوی خبرې ورسېدې، او دوی له هغو څخه معلومات حاصل کړل»، نو دا د هغوی معجزه شوه.

تنبيه: د حيواناتو علماوو له کلونو کلونو راهيسې کومې تجربې چې کړي دي؛ له هغوی څخه دا راڅرګنديږي، چې دغه خوار او حقير ساکښ (ذي روح) او خوځنده (حشره) هم پخپل اجتماعي حيات، سياسي نظام کې ډېر زيات له انساني خويونو سره قريب واقع شوی دی، او د دغو امورو اداره په ډېر عجيب او غريب ډول سره کوي، د انسانانو په شان ميږيان هم د کورنيو او ټبرو او قبائلو خاوندان دي، په دوی کې هم د تعاون او خواخوږۍ جذبات شته، د دوی د اعمالو تقسيم او د حکومت نظام د انساني اداراتو سره ډېر قريب او متشابه ليدل کيږي.

فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّن قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِىٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَىَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَٰلِحًا تَرْضَىٰهُ وَأَدْخِلْنِى بِرَحْمَتِكَ فِى عِبَادِكَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٩﴾

پس تبسّم وکړ (سُليمان) په دغه حال کې چې خندا کوونکی وو (ورپسې تعجّبًا او سُرورًا) له وينا د هغه ميږي، او وويل سُليمان: اى ربه ځما ! الهام وکړه ماته (را په برخه کړه) دا چې شُکر وکړم د نعمت ستا هغه چې انعام کړی دی تا پر ما او پر مور پلار ځما، او بل دا چې وکړم زه عمل نېک چې (په فضل خپل سره) خوښوې ته هغه، او ننباسه ما (او يو ځای کړه ما) په رحمت خپل سره په (هغو) بندګانو خپلو کې چې صالحان شوي دي.

تفسير: کله چې سُليمان عليه السلام د هغه ميږي پر خبره وپوهېده؛ متعجب شو، او د سُرور او نشاط له فرطه يې د شکر د اداء کولو جذبه په جوش راغله، او وويل سُليمان: اى ربه ځما ! الهام وکړه، را په برخه کړه دا چې شکر وکړم د نعمت ستا هغه چې انعام کړی دی تا پر ما او پر مور او پلار ځما او بل دا چې وکړم زه عمل نېک، چې پخپل فضل سره خوښوې ته هغه، او ننه باسه او يو ځای مې کړه په رحمت خپل سره په هغو بندګانو کې چې صالحان دي.

وَتَفَقَّدَ ٱلطَّيْرَ فَقَالَ مَا لِىَ لَآ أَرَى ٱلْهُدْهُدَ أَمْ كَانَ مِنَ ٱلْغَآئِبِينَ ﴿٢٠﴾

او لټونه يې وکړه د مرغانو (او هدهد يې ونه مونده)؛ نو ويې ويل: څه مانع دی ما لره چې نه وينم زه هدهد، بلکه دی هدهد له غائب شويو (د دې ټولې څخه چې يې نه وينم).

تفسير: بناء پر کوم ضرورت سُليمان عليه السلام د الوتونکيو افواجو حاضري واخيسته؛ هدهد د ده په نظر کې رانغی، نو ځکه يې وفرمايل: دا څه خبره ده چې زه هدهد نه وينم؟ آيا د دغو الوتونکيو افواجو په منځ کې پټ دی او زه يې نه وينم؟ يا په واقع سره غير حاضر دی؟.

تنبيه: له طيورو څخه سُليمان عليه السلام مختلف اعمال اخيستل، مثلاً په هوايي سفرونو کې به دوی مأمور وو، چې د سُليمان عليه السلام په سر داسې والوځي، چې د دوی پر تخت سيوری ولويږي، عند الضرورت د اوبو او د نورو ضروریاتو سراغ او پته ولګوي، خطوط او فرامين له يوه ځايه بل ځای ته ورسوي، په دغه وخت کې امکان لري چې هُدهد ته به کوم يو خاص ضرورت وروړاندې شوی وي، او دی به د هغه لامله غير حاضر شوی وي.

لَأُعَذِّبَنَّهُۥ عَذَابًا شَدِيدًا أَوْ لَأَاْذْبَحَنَّهُۥٓ أَوْ لَيَأْتِيَنِّى بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٢١﴾

خامخا عذاب به ورکړم زه هرومرو ده ته عذاب سخت، يا خامخا ذبح به کړم زه دی، يا به خامخا راوړي دی ماته برهان دليل ښکاره (په غياب خپل چې له دې وجې نه غايب وم).

تفسير: يعنې خپل د غير حاضری کوم واضح او ښکاره دليل راوړاندې کړي.

فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيدٍ فَقَالَ أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِۦ وَجِئْتُكَ مِن سَبَإٍۭ بِنَبَإٍ يَقِينٍ ﴿٢٢﴾

پس ځنډ (تأخير) وکړ هدهد نه ډېر (بلکه لږ ځنډ يې وکړ او ژر راغی) پس وويل (هُدهد په جواب د سليمان کې) احاطه وکړه ما په هغه څيز (او پوره پرې خبر شوی يم) چې نه ده احاطه کړې تا (او نه يې پرې خبر) په هغه باندې، او راغلی يم زه تاته له سبا ځخه په خبرې تحقيقي يقيني سره.

تفسير: سُليمان عليه السلام ته د هغه ملک احوال په مفصّل ډول سره نه وو رسېدلی، اوس وروسېد، «سبأ» د يوه قوم نوم دی، چې د هغوی ملک په عربستان کې د يمن په اطرافو کې وو (موضح القرآن)، ګواکې د هُدهد په وسيله الله تعالى دغه تنبيه وفرمايله، چې د ډېرو لويو لويو انسانانو علم هم له سره نشي محيط کېدی، وګورئ چې د هغه نبي په شان چې پخپله الله تعالى داسې فرمايلي وو ﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ عِلْمًا﴾ هغه ته د يوې جزئيې اطلاع هُدهد وررسوي.

إِنِّى وَجَدتُّ ٱمْرَأَةً تَمْلِكُهُمْ وَأُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَىْءٍ

بېشکه چې ما وموندله يوه ښځه چې باچاهي يې کوله پر دغه (اهل د سبأ) او ورکړی شوي دي دغې (ښځې) ته له هر څيز څخه (چې باچايانو ته ورکولی شي).

تفسير: په هر شي کې مال، اسباب، فوج، اسلحه، حسن، جمال ګرد شيان راغلل.

وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ ﴿٢٣﴾

او دی دې ته تخت ډېر لوی.

تفسير: يعنې د دې ملک د ملکې تخت داسې مُکلف، مرصّع او ډېر قيمتدار دی، چې د دنيا هيڅ يوه له باچاهانو سره هغسې تخت نشته، مفسّرينو د دغې ملکې نوم «بلقيس» ليکلی دی، والله أعلم.

وَجَدتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِن دُونِ اللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ ﴿٢٤﴾

ومې موندله دغه ښځه او قوم د دې چې سجده کوي دوی لمر ته بې له الله، او ښایسته کړي دي دوی ته شیطان عملونه د دوی، پس منع کړي دي (شیطان) دوی له سمې صافې لارې، پس دوی نه مومي سمه صافه لاره.

تفسیر: یعنې هغه قوم مشرکان او د لمر عابدان دي، او شیطان دوی له لارې څخه ایستلي دي، او د شرک رسوم او اطوار د دوی په نظرونو کې ښایسته ورځرګند (ورښکاره) شوي دي، نو ځکه دوی د هدایت لاره نشي موندلی، هُدهد پخپلې دغې وینا سره ګواکې سُلیمان علیه السلام ته ترغیب ورکړ، چې د دغه قوم پر خلاف جهاد وکړي.

أَلَّا يَسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴿٢٥﴾

ولې دوی نه کوي سجده الله ته؟ هغه (الله) چې راوباسي (ښکاره کوي) پټ څیزونه چې په اسمانونو کې دي، او په ځمکه کې دي، او (هغه الله) چې ورمعلوم دی هر هغه څیز هم چې پټوئ یې تاسې (په زړونو خپلو کې)، او هر هغه څیز چې ښکاروئ یې تاسې (په ژبو خپلو کې).

تفسیر: غالبًا د دغه هُدهد د کلام تتمّه ده، معلومیږي چې حیوانات فطرتًا د خپل خالق د صحیح معرفت لرونکي دي، یا د خرق عادت په ډول همدغه یوه هُدهد ته دغسې تفصیلي معرفت ورعطاء کړی شوی وو، هو ! که الله تعالی اراده وفرمایي؛ نو دغسې معرفت په یوه وچ لرګي کې هم پیدا کولی شي.

اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ﴿٢٦﴾ السجدة

الله هغه ذات دی (چې) نشته هیڅ لایق د عبادت مګر یواځې همدی دی، چې رب د عرش ډېر لوی دی.

تفسیر: یعنې د ده د عظیم عرش سره د بلقیس تخت څه مناسبت لري؟.

قَالَ سَنَنظُرُ أَصَدَقْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿٢٧﴾

نو وویل (سُلیمان) ژر به وګورو آیا رښتیا ویلي دي تا (ای هدهده ! دغه خبره کې) یا که ته یې له دروغ ویونکیو.

تفسیر: یعنې زه ستا د دروغو امتحان اخلم، (بیا سُلیمان یو مکتوب ولیکه، او هُدهد ته یې وویل):

اذْهَب بِّكِتَابِي هَٰذَا فَأَلْقِهْ إِلَيْهِمْ ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ فَانظُرْ مَاذَا يَرْجِعُونَ ﴿٢٨﴾

یوسه ته (ای هُدهده !) لیک ځما دغه پس وغورځوه هغه (لیک) دوی ته، بیا مخ جار باسه له دوی (او پټ نژدې ورته ودرېږه) پس وګوره (له ورایه) چې په څه ځواب رجوع کوي دوی؟.

تفسیر: یعنې سلیمان علیه السلام یو خط ولیکه، او هُدهد ته یې ورکړ، چې د «سبأ» ملکې ته یې ورسوي، او جواب یې بېرته راوړي، او ورته ویې ویل: څه وخت چې خط دې ورورسوه؛ ښایي چې بیا ترې یوې خوا ته پر څنګ شې، ځکه چې د قاصد مخامخ دربدل د سلطنت له آدابه سره څه تناسب نه لري.

قَالَتْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ إِنِّىٓ أُلْقِىَ إِلَىَّ كِتَٰبٌ كَرِيمٌ ﴿٢٩﴾ إِنَّهُۥ مِن سُلَيْمَٰنَ

وويل (بلقيس) چې ای اشرافو ! بېشکه زه چې يم راغورځولی شوی دی ماته يو ليک عزتناک. بېشکه دغه (ليک) د سليمان (له طرفه راغلی) دی.

تفسير: بلقيس د دغه خط د لوستلو په اثر خپل مشران او درباريان راټول کړل، او دوی ته يې وويل چې: «ای ځما مشرانو ! ماته داسې يو عجيب خط په دغه عجيبه طريقه رارسېدلی دی، چې د يوه معزّز او محترم باچا سُليمان عليه السلام له طرفه راغلی دی، غالبًا دوی به د سُليمان عليه السلام اسم او د ده د بې مثاله حکومت او شوکت اشتهار پخوا له دې نه اوربدلی وي.

وَإِنَّهُۥ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٣٠﴾

او بېشکه (مضمون د دې ليک دا دی چې شروع) په نامه د الله چې خورا مهربان ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: هـم هغسې چې دلته دغه «تسميه» د دغه قرآني آيت جزء دی، د قرآنکريم په نورو ځايونو کې هم ځان ته يو مستقل قرآني آيت دی، د تسميې لوستل په اول د هـر سـورت کې يو ضروري امر دی، د حنفيانو په مذهب لکه چې پاس مو وليکل «تسميه شريفه» د عظيم الشأن قرآن يو ځان ته مستقل او جلا مبارک آيت دی، چې لپاره د تبرّک او فصل د قرآني سورتونو د هر سورت په اول کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په امر ليکلې شوي دي، د امام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمهما الله په مذهب برسېره په دې چې تسميه شريفه د فاتحې شريفې د سورت اوله برخه او جزء دی؛ په نورو قرآني سورتونو کې هم پرته (علاوه) د توبې له سورته داخله ده.

أَلَّا تَعْلُوا۟ عَلَىَّ وَأْتُونِى مُسْلِمِينَ ﴿٣١﴾

(مقصد ځما دا دی) چې لويي (او کبر) مه کوئ تاسې پر ما او راځئ تاسې ماته مسلمانان غاړه ايښودونکي (الله ته).

تفسير: داسې جامع مختصر او له عظمته ډک خط به ممکن دی چې ډېر لږو باچاهانو په دنيا کې بل کوم باچا ته ليکلی وي، مطلب يې دا دی چې: «ځما په مقابل کې زور آزمويل هيڅ فائده نه دررسوي، ستاسې خير په همدې کې دی چې اسلام ومنئ !، او ځما احکامو ته غاړه کېږدئ !، او د انسانانو په شان په سمو ګوتو ماته راشئ ! ځکه چې ستاسې لويي، تکبّر او ځان مشر ګڼل ځما په مقابل کې بې فائدې دي».

قَالَتْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ أَفْتُونِى فِىٓ أَمْرِى مَا كُنتُ قَاطِعَةً أَمْرًا حَتَّىٰ تَشْهَدُونِ ﴿٣٢﴾

وويل (بلقيس) چې ای اشرافو ! فتوی (مشوره) راکړئ تاسې ماته په دغه کار ځما کې، نه يم زه فيصله کوونکی د کوم کار تر هغه پورې چې حاضر شئ تاسې ماته (مشوره راکړئ !).

تفسير: يعنې تاسې مشوره راکړئ ! چې د هغه ځواب په څه مضمون سره وليکل شي، او بالمقابل يې څه اقدامات او چارې وکړی شي؟ لکه چې تاسې ته معلوم دي د کومې لويې معاملې (قطعي) فيصله بې د تاسې له پوښتنې او مشورې څخه نه کوم.

قَالُوا نَحْنُ أُولُوا قُوَّةٍ وَأُولُوا بَأْسٍ شَدِيدٍ وَالْأَمْرُ إِلَيْكِ فَانْظُرِي مَاذَا تَأْمُرِينَ ﴿٣٣﴾

وويل دغو (اشرافو) چې مونږ خاوندان د قوّت زور يو، اوخاوندان د جنګ سخت يو، او امر (حکم، اختيار) تاته دی، پس وګوره (ای ملکې !) چې د څه شي امر (حکم) کوې ته (پر مونږ باندې چې ويې منو !).

تفسير: يعنې له مونږه سره د زور او طاقت او د حربي لوازمو او سامانونو هيڅ تقليل او کمی نشته، او نه د کوم باچا له ويرولو څخه مونږ ډاريږو، که ستا حکم صادر شي؛ نو مونږ له سُليمان عليه السلام سره جنګ ته تيار يو، برسېره په دې ته خپلواکه او خپله مختاره يې، سره له غوره پوهه او چرته (خياله) مونږ ته هر هغه حکم چې مناسب يې ګڼئ؛ را يې کړه ! ځکه چې ځمونږ غاړې ستاسې د هر حکم په مقابل کې ښکته دي، معلوميږي چې د درباريانو فکر او رايه د جنګ کولو په لوري وه، مګر ملکې په جنګ کولو کې تعجيل مناسب ونه ګڼاپه، او يو بين البين داسې معتدل صورت يې غوره کړ، چې د هغه ذکر اوس راځي:

قَالَتْ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً ۖ وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٣٤﴾
وَإِنِّي مُرْسِلَةٌ إِلَيْهِم بِهَدِيَّةٍ فَنَاظِرَةٌ بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُونَ ﴿٣٥﴾

نو وويل (بلقيس چې په جنګ کې خير نشته)، بېشکه باچاهان هر کله چې ننوځي په کوم کلي (ښار) کې (په غلبه او قهر)؛ خرابوي دوی هغه (ښار)، او ګرځوي دغه (باچاهان) عزيزان (مشران) د اهل د هغه ذليلان (سپک بنديان)، او همداسې (چې ومې ويل) دوی کوي. او بېشکه زه لېږونکی يم دوی ته (قاصد) سره له هديې (پېشکشی)، پس بيا زه کتونکی يم چې په څه حال بېرته راځي دغه ليږلي شوي (چې قبلوي دغه پېشکشي يا يې بېرته رااليږي).

تفسير: معلوميږي چې د خط د مضمون له عظمته او شوکته او له نورو قرائنو، اماراتو او آثارو څخه بلقيس متيقنه شوه، چې زه پر دغه باچا برى نشم موندلی، او اقلا د دغې خبرې قوي احتمال د دې په زړه کې پيدا شوی وو، چې د داسې لويو شان او شوکت لرونکيو باچاهانو سره جنګېدل د لوبو او ټوکو خبره نه ده، که دی غالب شو، لکه چې د ده د برې قوي امکانات شته؛ نو د نورو ملوکو او سلاطينو له عمومي عادته سره موافق به دغه ځما ګرد ښارونه سره لاندې باندې کړي، او داسې يو لوی انقلاب به ونښلي چې په هغه کې به مشران، کشران، عزت لرونکي خلق به بې عزته کيږي، او ډېر انسانان به خواران او ذليلان کيږي، لهذا ځما په فکر خو ښه داسې راښکاري چې مونږ په جنګېدلو کې جلتي او تلوار ونه کړو، بلکه لازم دي چې د مقابل جانب قوّت، قدرت، طبيعي رجحانات، او د حکومت نوعيت څخه معلومات حاصل کړو، او په دې باندې ښه ځان خبر کړو، چې هغوی په رښتيا سره څه شی له مونږ څخه غواړي؟ که مونږ څه تحائف او هدايات ورولیږو، او دغه راتلونکی مصيبت د هغو په وسيله له خپله ځانه لرې وساتو؛ نو ډېر به ښه شي، که نه په دغه ذريعه مونږ ته لږ څه د دوی وضعيت او رويه راڅرګندیږي (ښکاره کيږي)، څو بيا مونږ له هغه سره مناسب رويه او لاره ځان ته غوره کړو.

فَلَمَّا جَاءَ سُلَيْمَانَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٍ فَمَا آتَانِيَ اللَّهُ خَيْرٌ مِّمَّا آتَاكُم ۖ بَلْ أَنتُم بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُونَ ﴿٣٦﴾ ارْجِعْ
إِلَيْهِمْ فَلَنَأْتِيَنَّهُمْ بِجُنُودٍ لَّا قِبَلَ لَهُم بِهَا وَلَنُخْرِجَنَّهُم مِّنْهَا أَذِلَّةً وَهُمْ صَاغِرُونَ ﴿٣٧﴾

پس کله چې راغی (قاصد د بلقيس) سُليمان ته؛ نو وويل (سُليمان آيا مددګاري کوئ تاسې له ما سره په مال سره، پس هغه څيز چې راکړی دی ماته الله (له نبوّت، علم، سلطنت) خير ډېره غوره

دی له هغه څیزه څخه چې درکړی دی (الله) تاسې ته، بلکه تاسې په دغه هدیه (ببشکشی) خپلې خوشالېږئ. ببرته ورشه دوی ته (ای قاصده چې راشي ماته ! که نه) پس خامخا وربه شو مونږ دوی ته سره له (داسې زورور) لښکر، چې نه وي هیڅ طاقت د مقابلې دوی ته له هغو لښکرو سره، او خامخا وبه باسو هرومرو دوی له دغه (ښار د سبأ څخه) په دې حال کې چې بې عزته بې حُرمته وي، او دوی به خوار او سپک وي.

تفسیر: یعنې دغه تحفې او هدایا دې تاسو ته در مبارک وي، چې په ورکولو یې تفاخر کوئ، او په اخیستو یې په تکثّر د اموالو سره خوشالېږئ، آیا ستاسې په فکر او اټکل کې زه تش یو دنیوي باچا درغلم؟ چې د مال او متاع مطامع ماته راوړاندې کوئ؟ تاسې ته دې معلوم وي؛ هغه روحاني دولت او مال، حکومت او دولت چې الله تعالی راعطاء کړی دی؛ هغه ستاسې له دغه ملک او دولت څخه ډېر اعلی او اولی دی، زه ستاسو دغو هدیو او تحائفو ته هیڅ اهمیت نه ورکوم، یعنې ببرته ورشه ای قاصده ! بلقیس او قوم ته یې ووایه چې: را دې شي ټول مسلمانان غاړې ایښودونکي، او که رانغلل دوی پس رابه ولو مونږ خامخا د دوی جنګ او مقابلې ته داسې لښکرې چې له جهته د ډېروالي اوقوّت نه دی هیڅ طاقت د مقاومت (ودرېدو) د دوی له هغو لښکرو سره، او هرومرو (خامخا) وبه باسو او وبه شړو مونږ خامخا دوی له دغه ښار د سبا څخه په دې حال کې چې بې عزته او بې حرمته به وي.

قَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ أَيُّكُمْ يَأْتِينِى بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَن يَأْتُونِى مُسْلِمِينَ ﴿٣٨﴾

وویل (سُلیمان) ای (ځما د دربار) اشرافو ! کوم یو له تاسې به راوړي ماته تخت د دې (بلقیسې) پخوا له هغه چې رائي دوی ماته مسلمانان (غاړه ایښودونکي الله ته).

تفسیر: دغه سفیر ببرته لاړ، او د جنګ پیغام یې ورورسوه، بلقیس متیقنه شوه چې دغه کوم معمولي باچا نه دی، د ده زور او قوّت د الله تعالی په زور او قوّت سره دی، له جدال څخه به هیڅ یوه ګټه او فائده په لاس رانه شي، او نه د داسې باچا په مقابل کې له چل، فریب څخه څه کار اخیستل کیږي، بالآخر د اطاعت او انقیاد په غرض د ډېرو ساز او سامان او لأو لښکر سره د سُلیمان علیه السلام په حضور د تشرّف په مقصد رهي (روانه) شوه، کله چې بلقیس د شام سرحداتو ته ورنژدې شوه، سُلیمان علیه السلام خپلو درباریانو ته وفرمایل چې: آیا داسې یو څوک شته چې د بلقیس شاهي تخت د دې د راتللو د مخه حاضر کړي؟.

تنبیه: له ﴿قَبْلَ أَن يَأْتُونِى مُسْلِمِينَ﴾ څخه معلوم شو، چې پخوا له اسلامه او انقیاده د حربي مال مباح دی.

قَالَ عِفْرِيتٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ ۖ وَإِنِّى عَلَيْهِ لَقَوِىٌّ أَمِينٌ ﴿٣٩﴾

وویل یو زورور سخت قوي له (قومه د) پیریانو چې: زه به راوړم تاته دا (تخت) پخوا د هغه چې پاڅېږې ته (ای نبي الله) له دغه ځایه خپله، او بېشکه زه پر دغه (راوړلو) د دې (تخت) خامخا قوي (زورور معتبر) امانتګر یم (چې نه کوم خیانت په جواهرو د ده کې).

تفسیر: د سُلیمان علیه السلام دربار به هره ورځ تر یو ټاکلي (مقرّر کړي) وخت پورې دوام درلود (لرلو)، مطلب یې دا دی چې «پخوا له دې نه چې تاسې له خپله درباره پاڅېږئ؛ زه به دغه شاهي تخت درحاضر کړی شم»، مګر په دغه کې هم لږ څه ځنډ (تأخیر) واقع کېده، او سُلیمان علیه السلام غوښته چې له دې نه مخکې د دې تخت راحاضر کړی شي.

قَالَ الَّذِي عِنْدَهُ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتٰبِ اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ يَّرْتَدَّ اِلَيْكَ طَرْفُكَ ؕ

وويل هغه (سړي) چې د ده سره يو علم وو له کتابه (منزّله يعني اسم الأعظم) زه به راوړم تاته دا (تخت) پخوا له هغه چې بيا راګرځي تاته سترګه ستا، (چې نيولې دې وي کوم شي ته).

تفسير: راجح خو همدغه معلوميږي چې دغه سړی د سُليمان عليه السلام صحابي او وزير آصف بن برخيا رضي الله تعالى عنه دی، چې د سماوي کتابونو عالم او د الله تعالى د اسماوو او د کلامونو له تأثيراتو څخه واقف وو، عرض وکړ چې: زه د سترګو په يوه رپه کې د هغې تخت در حاضرولی شم، يعنې همدا چې تاسې چاته وګورئ پخوا له هغه چې تاسې خپلې سترګې له هغه څخه ځان ته واړوئ؛ زه به هغه تخت دلته پخوا له طرفة العين څخه در حاضر کړم.

فَلَمَّا رَاٰهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهٗ قَالَ هٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّيْ ۖ لِيَبْلُوَنِيْٓ ءَاَشْكُرُ

نو کله چې وليد (سُليمان) دغه (تخت) قرار پروت په نزد د ده؛ نو ويې ويل: دغه (ژر راوړل د تخت) له فضله (احسانه) د رب ځما دی، لپاره د دې چې وازمويي ما چې آيا زه شکر کوم (پر نعمتونو د الله).

تفسير: يعنې دغه په ظاهري اسبابو سره نه دی، د الله تعالى فضل دی چې ځما رفيق دغه درجې ته رسېدلی دی، چې ترې داسې کرامات ظاهريږي، او کله چې د ولي او بالخاصه د صحابي کرامت د هم هغه نبي معجزه او د ده د اتباع ثمره وي؛ نو ځکه پر سُليمان عليه السلام هم د هغه شُکران عائد کيږي.

اَمْ اَكْفُرُ ؕ وَمَنْ شَكَرَ فَاِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ رَبِّيْ غَنِيٌّ كَرِيْمٌ ۝٤٠

يا ناشکري (کُفران) کوم؟ او هر څوک چې شکر کوي؛ پس بېشکه همدا خبره ده چې شُکر کوي خپل ځان ته (ځکه چې پرې د نعمتونو دوام او تزييد کيږي)، او هر چا چې ناشُکري وکړه (کُفران کوي)؛ نو بېشکه رب ځما غني بې پروا دی (له شکر او له هر څيزه) کرم والا (څښتن - خاوند د سخاوت دی پر مستحقانو د انعام).

تفسير: يعنې د شُکر ايستلو نفع شاکر ته رسيږي، چې په دنيا او آخرت کې به مزيد انعامات پرې مبذول کيږي، که ناشکري وکړي؛ نو الله ته به څه ضرر او نقصان ونه رسوي، ځکه چې الله تعالى د داسې شکر ايستلو څخه قطعًا بې پروا او بالذات کامل الصفات او منبع الکمالات دی، ځمونږ له کُفرانه د ده په کمالیه صفاتو کې هيڅ نقص او کمی نه راځي، دغه هم د الله تعالى لُطف او کرم دی، چې ناشکرانو ته سمدلاسه سزا نه ورکوي، نو د داسې کريم ناشکري کوونکی سړی په انتهايي درجه بې حيا او احمق دی.

قَالَ نَكِّرُوْا لَهَا عَرْشَهَا نَنْظُرْ اَتَهْتَدِيْٓ اَمْ تَكُوْنُ مِنَ الَّذِيْنَ لَا يَهْتَدُوْنَ ۝٤١

وويل (سُليمان) چې نا آشنا (او په بل شان او شکل کړئ) تاسې دغې (بلقيس) ته تخت د دې، چې وګورو چې آيا پيژني يې يا کيږي له هغو کسانو چې نه يې پيژني.

تفسير: يعنې د تخت رنګ او وضعيت يې تبديل کړ، او د هغه شکل او هيئت يې وګرځاوه، چې د هغه په ليدلو بلقيس په اسانۍ سره ونشي پوهېدی، په دې د بلقيس د عقل او فهم ازمويښت او امتحان مقصود وو، چې د هدايت استعداد په دې کې تر کوم ځای پورې شته.

فَلَمَّا جَآءَتْ قِيلَ أَهَٰكَذَا عَرْشُكِ ۖ قَالَتْ كَأَنَّهُۥ هُوَ ۚ

نو کله چې راغله (بلقیس تخت یې هلته ولید)، وویل شو (ورته) آیا همداسې دی تخت ستا؟ نو وویل (بلقیس) لکه چې دا هم هغه دی.

تفسیر: ویې نه ویل چې: هو ! هم هغه دی، او نه یې بالکل نفي وکړه، څه یې چې حقیقت وو؛ هغه یې صاف صاف ظاهر کړ، چې تخت خو هم هغه دی، لیکن په اوصاف کې یې څه فرق او توپیر (تفاوت) راغلی دی، او کله چې دغه فرق دومره مهم او معتدّبه نه دی؛ نو ځکه ویلی شي لکه چې هم هغه دی.

وَأُوتِينَا ٱلْعِلْمَ مِن قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِينَ ﴿٤٢﴾

او راکړی شوی وو مونږ ته علم (په وحدت د رحمان او نبوّت د سُلیمان) پخوا له دې (معجزې کله چې هُدهد ستا لیک راوړ)، او وو مونږ مسلمانان (غاړه ایښودونکي حکم ستا ته).

تفسیر: یعنې مونږ ته لا له پخوا څخه دغه خبره معلومه وه، چې سُلیمان علیه السلام تش یو باچا نه دی، بلکه ورسره د الله تعالی یو مقرّب بنده هم دی، نو ځکه مونږ د اطاعت او تسلیم او انقیاد لپاره اختیار کړه.

وَصَدَّهَا مَا كَانَت تَّعْبُدُ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ إِنَّهَا كَانَتْ مِن قَوْمٍ كَٰفِرِينَ ﴿٤٣﴾

او منع کړه (الله په توفیق خپل) دا له (عبادت د) هغه څیز چې وه دا چې عبادت یې کاوه غیر له الله، بېشکه چې دا وه (پخوا) له (هغه) قومه چې کافران وو.

تفسیر: یعنې الله تعالی، یا سُلیمان علیه السلام د الله تعالی په حکم ملکه بلقیس د لمر او نورو شیانو له عبادت څخه ستنه (منع) کړه، چې په هغه کې دا سره د خپل قوم مبتلا وه، یا یې دا مطلب چې د سلیمان علیه السلام په خدمت کې د حاضر بدلو تر وخته پورې چې د اسلام اظهار یې په علانیه ډول سره نه وو کړی، د هغه سبب دا وو چې د باطلو معبودانو خیال او د کفّارو صحبت او تقلید دا یې له داسې کولو څخه منع کړې وه، کله چې د نبيّ الله په ملاقات او زیارت مشرفه شوه؛ هغه ممانعت له منځه ورک شو، که نه د سلیمان علیه السلام د صداقت اجمالي علم دې ته لا له پخوا څخه حاصل وو.

قِيلَ لَهَا ٱدْخُلِى ٱلصَّرْحَ ۖ فَلَمَّا رَأَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً وَكَشَفَتْ عَن سَاقَيْهَا ۚ قَالَ إِنَّهُۥ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ مِّن قَوَارِيرَ ۗ قَالَتْ رَبِّ إِنِّى ظَلَمْتُ نَفْسِى وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَٰنَ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٤﴾

وویلی شو دغې (بلقیس) ته چې: ننوځه دې بنګلې ته، پس کله چې ولیده (بلقیس) دا (ښیښه)؛ نو ګمان یې پرې وکړ د ژورو اوبو، او پورته یې کړه (پاینځه) له دواړو پنډیو خپلو، نو وویل (سلیمان) بېشکه دغه (اوبه نه دي) یوه بنګله ده په ځمکه هواره ښویه (جوړه شوې) له ښیښو نه، وویل (بلقیس): ای ربه ځما ! بېشکه ما ظلم کړی دی پر ځان خپل، او اسلام مې راوړی دی سره له سُلیمانه خاص (هغه) الله ته چې رب (پالونکی) د عالمیانو دی.

تفسیر: یعنې له اوبو څخه د پورې وتلو په نیت یې خپلې پاینځې پورته کړې، لکه چې عمومي قاعده ده، چې که د اوبو د ژوروالي اندازه په پوره ډول معلومه نه وي؛ نو له اوبو څخه پورې وتونکی ړومبی د خپلو پاینځو په پورته کولو شروع کوي.

سُلیمان علیه السلام پخپله سلام خانه کې ناست وو، چې هغه د تیرو (کټو) په ځای په ښیښو فرش شوې وه، دغه صافې او پاکې ښیښې له لرې داسې ښکارېدې لکه چې د اوبو لوی حوض وي، او ممکن دي چې له دغو ښیښو لاندې به واقعي اوبه هم وې، یعنې حوض یې په ښیښو سره پټ کړی وي، دې په اوبو کې د ځېدلو لپاره خپل پښې لوڅې (بربنډې) کړې، سُلیمان علیه السلام پرې غږ وکړ چې: دغه د ښیښې فرش دی اوبه نه دي، بلقیس ته خپل د عقل قصور او د ده د عقل کمال ور معلوم شو، او په دغه باندې ښه وپوهېده، چې په دیانت هم پر هغو اسرارو چې دی پوهیږي؛ هغه هم صحیح دي، او دغه هم ورښکاره شوه چې پر هغو سازونو او سامونونو او وسائلو چې دغه قوم مغرور وو، او پرې نازېدل؛ دلته له هغه ځخه ډېر سامونونه موجود وو، ځکه سُلیمان علیه السلام دوی ته تنبیه ورکړه، چې د لمر او د ستوریو پر ځلېدلو غولېدل او هغوی ته د معبود نسبت ورکول همداسې دي، لکه چې انسان د ښیښې په ځلېدلو وغولیږي، او د اوبو ځکمان پرې وکړي.

کله چې ملکه بلقیس پر خپل قصور وپوهېده؛ نو وی یې ویل: ای ربه ځما ! بېشکه ما ظلم کړی دی پر خپل ځان، او اسلام مې راوړی دی سره له سلیمانه خاص هغه الله ته چې رب د عالمیانو دی، یعنې یا الله ! زه ستا منونکی یم، او د سلیمان علیه السلام دین او طریقه اختیاروم، تر اوسه پورې مې پر خپل ځان باندې ډېر ظلم کړی دی، چې په شرک او کفر کې مبتلا وم، اوس له هغه ځخه توبه کوم، او ستا د ربوبیت د دربار په طرف رجوع کوم !.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ فَإِذَا هُمْ فَرِيقَانِ يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٥﴾

او خامخا په تحقیق لېږلی وو مونږ ثمودیانو ته (قومي) ورور د دوی صالح (چې ووایه ثمودیانو ته) داسې چې عبادت کوئ تاسې خاص د الله، پس ناڅاپه دوی دوه فرقې وې (مؤمن او کافر) چې سره یې جګړې کولې.

تفسیر: یعنې یوه ایمان لرونکې او یوه منکره، لکه مکي والو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راتګ په وخت کې پخپلو منځونو کې جګړې سره کولې، د ثمودیانو د جګړې لږ ځه تفصیل د «الأعراف» سورت په (۱۰) رکوع کې پر دغو آیتونو ﴿قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِن قَوْمِهِ لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِمَنْ آمَنَ﴾ کې تېر شوی دی.

قَالَ يَا قَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُونَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ ۖ لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٤٦﴾

وویل (صالح) ای قومه ځما ! ولې جلتي کوئ تاسې په بدۍ (نزول د عذاب) پخوا له نېکۍ (توبې)، ولې مغفرت نه غواړئ تاسې له الله (په ایمان او توبه) لپاره د دې چې پر تاسې رحم وکړ شي؟.

تفسیر: صالح علیه السلام دوی ډېر په هر ډول سره وپوهول، نو کله چې دوی پرې ونه پوهېدل؛ بالآخر یې دوی له عذابه وویرول، چې د هغه په ځواب کې هغوی داسې وویل: ﴿وَقَالُوا يَا صَالِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾ یعنې که ته پخپلې دغې خبرې کې رښتین یې؛ نو ولې د الله تعالی عذاب پر مونږ نه نازلیږي؟ او د ځه لامله په کې ځنډ (تأخیر) او ډیل واقع کیږي؟ صالح علیه السلام وویل: ای کمبختانو ! ولې د ایمان او توبې او د نېکۍ لار نه اختیاروئ؟ چې په دنیا او آخرت کې ستاسې په کار درشي، او د ځه له سببه بالعکس بدي او عذاب ژر غواړئ؟ دغه عذاب او بدي چې په خپل وخت کې پر تاسې واقع شي؛ نو ستاسې دغه ګرد شورماشور به پای (آخر) ته ورسیږي، اوس وخت دی چې تاسې له خپلو ګناهونو ځخه توبه وباسئ، او خپل ځان د الله تعالی له عذابه محفوظ او مصئون کړئ !، تاسې ولې توبه او استغفار نه کوئ څو الله تعالی د عذاب او زحمت په ځای ثواب او رحمت در مرحمت کړي؟.

قَالُوا اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَنْ مَّعَكَ

وويل (ثموديانو) چې بدفالي نيولې ده مونږ په تا او په هغه چا چې له تا سره دي (له مؤمنانو).

تفسير: يعنې اى صالحه ! له كله راهيسې چې ستا قدم ځمونږ په خاوره كې اينبود شوى دى، او تا پخپلو دغو خبرو شروع كړېده؛ پر مونږ راز راز مصائب او مصاعب را نازل شوي دي، او په هر كور كې جنګ او جګړې نښتې دي.

قَالَ طٰٓئِرُكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُوْنَ ﴿٤٧﴾

وويل (صالح) چې: بدفالي د تاسې په نزد د الله ده (چې در كوي يې په بدل د كفر د تاسې)، بلكه تاسې يو قوم يئ چې ازمويلى كېږئ (كله په راحت او كله په زحمت).

تفسير: يعنې دغه مصاعب او سختى ځما لامله پر تاسې نه دي راغلي، بلكه د دغو سبب ستاسې هغه بد قسمتي ده چې الله تعالى ستاسې د شرارتونو او بدو اعمالو لامله پر تاسې مقررې او مقدّرې كړي دي.

وَكَانَ فِي الْمَدِيْنَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُّفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿٤٨﴾ قَالُوْا تَقَاسَمُوْا بِاللّٰهِ لَنُبَيِّتَنَّهٗ وَاَهْلَهٗ ثُمَّ لَنَقُوْلَنَّ لِوَلِيِّهٖ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ اَهْلِهٖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿٤٩﴾

او وو په ښار (د ثموديانو) كې نهه سړي (غټ شرير) چې فساد به يې كاوه په ځمكه (د حجر) كې، او نه به يې كوله اصلاح. وويل (ثموديانو) حال دا چې قسمونه يې خوړلي وو په الله چې: خامخا د شپې به ولويږو پر دغه (صالح) او اهل (عيال او امّت) د ده، (او وژنو به يې)، بيا به خامخا ووايو مونږ هرومرو ولي د ده ته (كه د قتل دعوى راباندې وكړي؛) چې: نه وو ليدلى مونږ ځاى د هلاكت د اهل د ده (نو نه يو خبر چې چا وژلى دى)، او بېشكه چې مونږ خامخا له صادقانو يو (په دعوى خپله كې).

تفسير: دغه نهه سړي ممكن دي چې د نهو تېرو سرداران او مشران وي، چې د دوى كار په ملك كې پرته (علاوه) له فتنې او فساد او خرابى اچولو څخه بل هيڅ شى نه وو، د اصلاح او درستي په طرف به هيڅكله دوى خپل مخ نه اړوه، په معظمه مكه كې هم د كفّارو نهه مشران وو، چې تل به يې د اسلام په مخالفت او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په معاندت كې سعي او مجاهدت كاوه، او نورو مفسّرانو د هغوى نومونه هم ليكلي دي، دغو د صالح عليه السلام د قوم نهو غټو اشرارو پخپلو منځونو كې معاهده او قسمونه سره يادل كړل؛ چې ګرد به سره يو ځاى كيږي، او د صالح عليه السلام په كور به ورننوځي، او دى به سره له ګردو كور وكهوله له يوه مخه وژني، بيا كه څوك د ده د وينې دعوادار پيدا شي؛ نو مونږ به ورته ووايو چې: مونږ له دغه دارې او د ده له وژونكي څخه نه يو خبر، او مونږ رښتيا وايو چې مونږ د ده د كور دغه تباه او وران وضعيت په خپلو سترګو نه دى ليدلى.

وَمَكَرُوْا مَكْرًا وَّمَكَرْنَا مَكْرًا وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٥٠﴾ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ ۙ اَنَّا دَمَّرْنٰهُمْ وَقَوْمَهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٥١﴾ فَتِلْكَ بُيُوْتُهُمْ خَاوِيَةً بِمَا ظَلَمُوْا ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَاَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿٥٣﴾

او فرېب وكړ دوى په فرېب كولو سره او فرېب وركړ مونږ په فريب وركولو سره، حال دا چې دوى پرې نه پوهېدل. پس وګوره چې څرنګه شو عاقبت د مكر (انجام د فرېب) د دوى، بېشكه

چې مونږ هلاک کړل دغه (نهه واړه) او قوم د دوی ټول (په غږ د جبریل). پس دغه دي کورونه د دوی (ورته وګورئ) چې وران تش پراته دي، په سبب د دې چې ظلم (شرک) کاوه دوی، بېشکه په دغه (اهلاک د ثمودیانو) کې خامخا لوی دلیل (د قدرت او عبرت) دی لپاره (د هغه) قوم چې پوهیږي (په خیر او شر خپل، او ترې عبرت اخلي). او نجات ورکړ مونږ (له دغه عذابه) هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی وو، او وو دوی چې ویرېدل (له الله او ځانونه یې ساتل له شرکه او معاصیو).

تفسیر: د دوی مکر خو همدغه د دروغو ترون وو، او د دوی د غه مکر په مقابل کې الله تعالی دوی ته ښه ډیل او مهلت ورکړ، چې په زړه پورې خپلو شرارتونو ته تکمیل ورکړي، څو د عذاب عظیم په مستحق کېدلو کې هیڅ حجّت او عذر پاتې نشي، دوی داسې ګڼل چې ګواکې مونږ صالح علیه السلام له منځه لرې کوو، او له دې نه نه وو خبر چې په واقع سره دوی پخپلو دغو اعمالو سره خپل ښېخ وباسي، او په خپل لاس خپل ځان له منځونو لرې کوي، موضح القرآن داسې لیکي: «د دوی د اهلاک اسباب خپل د تکمیل حد ته رسیدلي وو، ځکه څو شرارت خپل د تکمیل حد ته ونه رسیږي؛ اهلاک نه واقع کیږي».

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ﴿٥٤﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴿٥٥﴾

او (یاده کړه قصه د) لوط کله چې ویې ویل قوم خپل ته: آیا راځئ تاسې فاحشې (قبیح کار د لواطت) ته حال دا چې وینئ تاسې (یو بل په دې بد عمل کې چې څومره مردار کار دی؟) آیا تاسې خامخا راځئ سړیو ته له جهته د شهوت غیر له ښځو (چې د شهوت د دفعې لپاره دي) بلکه تاسې یو قوم یئ ناپوهان (له قبح د عواقبو خپلو).

تفسیر: یعنې که تاسې نه پوهیږئ چې د دغې بې حیایۍ آخره خاتمه څه کیږي؛ نو په انتهایي درجه جاهلان او ناپوهان یئ.

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَخْرِجُوٓا۟ ءَالَ لُوطٍ مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٥٦﴾

پس نه وو جواب د قوم د دغه (لوط بل شی) مګر همدا وو چې وبه ویل دوی (یو بل ته): وباسئ (وشړئ) تاسې خپلخانه د لوط له دې ښاره خپله (چې سدوم دی)، بېشکه دوی داسې سړي دي چې ځانونه پاک ساتي (له کارونو ځمونږ او بد یې ګڼي).

تفسیر: یعنې دغه لوط چې خپل ځان لوی، پاک، صاف او صفا ساتي؛ نو بیا ځمونږ له ناپاکانو سره څه کار او غرض لري؟.

فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ قَدَّرْنَٰهَا مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿٥٧﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَسَآءَ مَطَرُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿٥٨﴾

پس نجات ورکړه مونږ دغه (لوط) ته او اهل د دغه (لوط) ته مګر ښځه د ده چې مقدره کړې وه مونږ هغه (کافره ښځه په ازل کې) له باقي پاتې کیدونکیو (په عذاب کې). او ووراوه مونږ پر دوی باران (د تیږو ـ ګټو چې هلاک شول پرې) پس بد باران د ویرول شویو (په عذاب سره) باران د دوی دی.

تفسير: يعنې هغوی يې تباه او هلاک کړل، او لوط عليه السلام ته يې سره د ده د مسلمانانو ملګريو نجات ورکړ، ليکن د لوط عليه السلام ښځه چې د دغو اشرارو کفّارو سره يې مرستې کولې؛ هغه هم له هم هغو هلاک کېدونکيو سره پاتې شوه، او په دغو ګردو مجرمينو باندې پاک الله له آسمانه تيږې (ګټې) اوورولې، او دغه ښار يې له يوه مخه پر بل مخ واړاوه.

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى ۭ آٰللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝۵۹

ووايه (ای محمده !) چې ټولې ثناوې ستاينې (صفتونه) خاص الله لره دي (په نصرت د ابرارو، او ذلّت د کفارو)، او سلام دی پر بندګانو د دغه (الله) هغه (بندګان) چې غوره کړي دي دوی (الله پر ټولو مخلوقاتو)، آيا الله خير بهتر غوره دی که هغه بتان چې دوی يې شريکان کوي (له الله سره؟ بلکه الله بهتر دی !).

تفسير: وروسته د قصصو له فراغه: ﴿آٰللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ﴾ يې د توحيد بيان فرمايلی دی، دغه الفاظ د خطبې په ډول تعليم فرمايي، چې ښايي پخوا له بيانه وي، «موضح القرآن» ليکي: د الله تعالی تعريف کول، او په انبياوو سلام لېږل، او وروسته له هغه په بله خبره شروع کول يې خلقو ته وروښودل، ځينې مفسّرين وايي: د الله تعالی هغه کمالات او احسانات چې پاس د قصصو په منځ کې مذکور شول؛ پر هغو ځمونږ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته حکم وشو، چې د الله تعالی حمد او ثناء ووايي، او شکر پر ځای راوړي، او پر هغو مقبولو بندګانو چې د ځينو د هغو ذکر پاس وکړ شو؛ سلام ولېږي، له دې ځايه د توحيد وعظ شروع کړی شوی دی، يعنې د پاس قصصو د اوړېدلو او په تکويني آيتونو باندې د فکر او غور کولو څخه وروسته تاسې پخپله دغه راوښيئ، چې د دغه «وحده لا شريک له» الله تعالی منل خير، بهتر، غوره، نافع او معقول دي؟ يا د ده په الوهيت کې د هغو خوارو عاجزانو او ناتوانو مخلوقاتو معبود درول؟ او له الله تعالی سره يې شريک ګرځول؟ اوس دغه مسئله دومره سخته او مشکله نه ده، چې د هغې په فيصله کولو کې څه تدقيق او ځنډ (تأخير) کولو ته څه حاجت او ضرورت پاتې وي، خو بيا هم د زيات تذکير او تنبيه په غرض وروسته له دې نه د الله تعالی ځينې داسې شئون او صفات بيانيږي چې د ده پر توحيد او تقدّس دلالت کوي، او ځينې هغه خير او نفعې شمېرل کيږي، چې د الله تعالی د رحمت او د فضل آثار په هغو کې له ورا ښکاري، نو فرمايي چې:

اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ السَّمَاۗءِ مَاۗءً ۚ فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ حَدَاۗىِٕقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ۚ مَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُنْۢبِتُوْا شَجَرَهَا ۭ

بلکه هغه څوک (بهتر دی) چې پيدا کړي يې دي اسمانونه او ځمکه، او نازلې کړي يې دي لپاره د تاسې له (طرفه د) اسمان اوبه، پس زرغون کړل مونږ په دغو (اوبو) سره باغونه خاوندان د رونق (او ښايست)، نه دی کېدونکی له تاسې دا (کار) چې زرغونې کړئ تاسې ونې د هغو.

تفسير: آيا دغه الله موصوف په دغو صفاتو بهتر دی که معبودان د تاسې چې هيڅ نشي کولی؟ بلکه له سره د ونو زرغونول ستاسې په اختيار کې نه دي، دا لا څه چې له هغه ځينې مېوې او ثمرات او نور شيان هم راوباسئ.

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۭ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَّعْدِلُوْنَ ۝۶۰

آيا شته بل معبود برحق له الله سره؟ (نه نشته)، بلکه دغه (مشرکان) يو داسې قوم دی چې څنګ کوي (له توحيده).

تفسير: يعني په دې باندې ګرده دنيا پوهيږي، او پخپله همدغه مشرکان يې هم مني، چې د ځمکې او اسمان پيدا کول، د باران (وريا) ورول، د ونو ـ نباتاتو زرغونول غير له الله تعالى څخه د بل چا کار نه دى، لکه چې د لوى قرآنکريم په بل ځاى کې د مشرکانو داسې اقرار او اعتراف هم مذکور دى، بيا وروسته له دې نه چې تر دې ځاى پورې ورسېدئ، نو بيا ولې له سمې لارې څخه کاږه کېږئ؟ کله چې ماسوا الله څخه بل داسې يو ذات نشته، چې د دغو ګردو (ټولو) مخلوقاتو انتظام او تدبير وکړى شي، يا د کوم شي مستقل اختيار ولري؛ نو بيا د الله تعالى په ألوهيت او معبوديت کې څرنګه بل څوک ورسره شريکېدى شي؟ «عبادت» د انتهايي تذلل نوم دى، نو دغسې عبادت هغه ذات ته لايق دى، چې په انتهايي درجه کامل او بااختياره وي، د کوم ناقص يا عاجز مخلوق له لوى خالق سره په معبوديت کې برابرول، انتهايي ظلم، ضد او عناد دى.

أَمَّن جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلَالَهَا أَنْهَارًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ

بلکه هغه څوک (بهتر دى) چې ګرځولې يې ده ځمکه ځاى د قرار (آرام)، او ګرځولي يې دي په منځ د دغې ځمکې کې نهرونه (سيندونه، رودونه، ويالې د اوبو)، او ګرځولي يې دي دغې (ځمکې) ته محکم لوړ (اوچت) غرونه.

تفسير: چې په کې ايښي دي لکه ميخونه او بارونه تر څو ودريږي، ونه خوځي، يعني د انسانانو او حيواناتو دېره ځاى دى، چې په آرامى سره پرې ژوندون کوي، او له دې حاصلاتو او پيداوار څخه ګټه (فائده) او نفعه اخلي.

وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا

او ګرځولې يې ده په منځ د دوو بحرونو (خوارې او تروه) کې پرده (چې سره ګډ نشي).

تفسير: آيا دغه الله موصوف په دغه صفاتو بهتر دى که معبودان د تاسې چې هيڅ نشي کولى؟ د دې تحقيق پر دغه آيت ليکلى شوى دى: ﴿وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا﴾ (۱۹ جزء د الفرقان سورت (۵) رکوع، (۵۳) آيت) کې دې ولوستل شي.

أَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦١﴾

آيا شته بل معبود برحق له الله سره؟ (نه ! نشته) بلکه اکثر د دغو (مشرکانو) نه پوهيږي.

تفسير: په توحيد چې ايمان نه راوړي، يعني آيا بل کوم بااختياره ذات شته؟ چې دغسې کار وکړى شي؟ او پر دغه بناء د معبود ګرځېدلو لايق شي؟ کله چې نشته؛ نو معلوم شو چې دغه مشرکين محض دجهالت او ناپوهى لامله د شرک او مخلوق پرستى په ژوره کنده کې لويدلي دي، او لا پسې د جهل په سوړو کې ننوځي.

أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ

بلکه هغه څوک (بهتر دى) چې قبلوي سوال د عاجز (بېکس بې بس) کله چې وبولي دغه (مضطر) هغه (الله أکبر)، او لرې کوي بدي سختي.

تفسير: يعني کله چې الله تعالى اراده وفرمايي؛ نو د بېکسانو او ناقرارانو او بې وځلو دعاوې او نارې اوري، سختي ترې لرې کوي، لکه چې (په ۷ جزء د الأنعام سورت په (۴) رکوع (۴۱) آيت کې) يې فرمايلي دي: ﴿فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ إِنْ شَاءَ﴾ ګواکې الله تعالى دعاء هم له عادي اسبابو څخه يو سبب ګرځولې ده، چې پرې د مسبب ترتّب د الله تعالى په مشيت د شروطو پر استجماع او د موانعو پر ارتفاع کيږي، علامه طيبي رحمه الله او نورو ويلي دي چې: په دغه آيت کې

مشرکینو ته تنبیه ده، چې د سختیو مصائبو او شدائدو په وخت کې تاسې هم مضطرب کېږئ، او همدغه پاک الله ته دعا او ناړې کوئ، او نور معبودان ستاسې له یاده وځي، نو بیا د فطرت او ضمیر دغه شهادت مو ولې د امن او اطمینان په وخت کې له تاسې هیریږي.

وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ الْأَرْضِ ۗ

او ګرځوي (الله) تاسې لره خلیفګان په ځمکه کې (په ځای د تېرو خلقو).

تفسیر: آیا دغه الله موصوف په دغو صفاتو سره بهتر دی که معبودان د تاسې چې هیڅ نه شي کولی؟ یعنې یو قوم او نسل له ځمکې څخه پورته کوي، او د دوی په ځای بل قوم او نسل ودانوي، چې دوی پر ځمکه د مالکیت او سلطنت له حیثه تصرّفات کوي.

ءَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾

آیا شته بل معبود برحق له الله سره؟ (نه، نشته) لږ شانته پند قبلوئ (او غور چلوئ تاسې).

تفسیر: یعنې که تاسې په پوره ډول سره فکر کولی؛ نو د لرې تللو لپاره هیڅ یو ضرورت نه وو پاتې، همدغو خپلو حوائجو او ضروریاتو او د اقوامو همدغه تبدیل او تغیر ته به مو کتل، نو پخپله به پوهېدئ چې د هغه قدیر ذات په لاس کې چې د دغو امورو قبضه او اختیار دی؛ یواځې هم هغه ذات د عبادت وړ او مستحق دی.

أَمَّن يَهْدِيكُمْ فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَن يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ ۗ

بلکه هغه څوک (بهتر دی) چې لاره ښیي تاسې ته (په ستوریو سره) په تیارو د بر (بیدیا) او (په تیارو) د بحر (دریاب) کې، او هغه (څوک بهتر دی) چې رالیږي بادونه زېرى ورکوونکي په مخ کې د رحمت (باران) خپل.

تفسیر: آیا دغه الله موصوف په دغو صفاتو سره بهتر دی؟ که معبودان د تاسې چې هیڅ نشي کولی؟ الله تعالی د وچې او د سیند په تیارو کې د ستوریو په وسیله ستاسې لارښوونه کوي، اعم له دې نه چې بلاواسطه وي که د قطب ښوونکې او نورو آلاتو په واسطه وي، او پخوا د رحمت له بارانه هواوې او بادونه چلوي، او په هغو سره د باران د راتګ زېرى ورکوي.

ءَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ۚ تَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٣﴾

آیا شته بل معبود برحق له الله سره؟ (بلکه نشته) ډېر لوی دی، ډېر پورته دی الله له هغو (شیانو) چې شریکوي یې دغه (مشرکان له الله سره).

أَمَّن يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ

آیا هغه څوک چې له ړومبی یې پیدا کړي دي خلق (له نطفې په ارحامو کې)، بیا به یې ژوندي کوي (بعد الموت په قیامت کې).

تفسیر: ګرد خلق دغه قبلوي چې ابتدائي تخلیق د الله تعالی کار دی، وروسته له مرګه بیا ژوندي پاڅېدل هم پر هم دغه قیاس کړئ، د «بعث بعد الموت» منکرین هم هم دغومره پوهیږي چې که بالفرض وروسته له مرګه پیا ژوندون وي؛ نو هغه کار هم د هم هغه ذات دی چې اول ځلي یې پیدا کړي دي.

وَمَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ

او هغه څوک چې رزق روزي درکوي تاسې ته له (طرفه د) اسمانه (په باران) او له ځمکې (په محصولاتو يې، آيا دغه الله موصوف په دغو صفاتو بهتر دی؟ که معبودان د تاسې چې هيڅ نشي کولی؟).

تفسير: يعنې هغه کوم ذات دی چې د سماوي او ارضي اسبابو په وسيله سم له خپله حکمته سره تاسې ته روزي دررسوي؟

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۶۴﴾

آيا شته بل معبود له الله سره؟ (بلکه نشته) ووايه (ای محمده ! دوی ته) راوړئ تاسې بُرهان (سند) خپل (په دې چې غير له الله همداسې کولی شي) که چېرې يئ تاسې صادق (رښتين په دې دعوی خپله کې).

تفسير: يعنې سره د دغو صافو، ښکاره دلائلو له اوريدلو بيا تاسې د الله تعالی وحدانيت او د کفر او شرک نقصان او قباحت نه تسليموئ، نو هر هغه دليل چې تاسې يې د خپلې دغې باطلې دعوی په ثبوت کې لرئ؛ هغه راوړاندې کړئ !، څو د هغې له مخې ستاسې دروغ او رښتيا ښکاره شي، مګر له هغوی سره دليل او برهان چېرې دی؟ محض د ړندو په تقليد رهي (روان) دي: ﴿وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۙ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ ۙ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ؕ﴾ (۱۸ جزء د «المؤمنون» سورت (۶) رکوع، (۱۱۷) آيت).

قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ؕ

ووايه (ای محمده ! دوی ته) نه پوهيږي هغه څوک چې په اسمانونو کې دي، او په ځمکه کې دي (له پرښتو او انسانانو) په غيبو امورو باندې مګر (عالم دی پر غيبو) الله.

تفسير: دغه آيت د سابق مضمون تکميل او د لاحق مضمون تمهيد دی، د دې جزء له ابتداء څخه تر دې ځايه پورې د الله تعالی د تام قدرت، عام رحمت، او د کامل ربوبيت بيان وو، يعنې هر کله چې الله تعالی په دغو صفاتو او شئونو کې متفرد دی؛ نو ښايي چې په الوهيت او معبوديت کې هم متفرد وي، په دغه آيت کې په الوهيت له بله حيثيته استدلال کاوه شي، يعنې معبود به هم هغه ذات کېدی شي، چې له تام قدرت سره محيط او کامل علم هم ولري، او دا هغه صفت دی چې په ځمکه او اسمان کې هيڅ يو مخلوق ته نه دی حاصل، او د هم هغه رب العزّت سره مخصوص دی، پس په دغه اعتبار سره هم د معبوديت استحقاق له هم هغه واحد ذات لپاره ثابت شو.

وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴿۶۵﴾

او نه پوهيږي دغه (کفار) چې کله به بيا ژوندي راپاڅولی شي دوی.

تفسير: يعنې پر قيامت يقين نه لري، او وايي چې قيامت کله راځي؟ چې د هغه په اثر مړي بيا ژوندي کيږي، پر دغه هيڅوک نه دي خبر، ړومبی د مبدأ ذکر کېده، له دې ځايه وروسته د معاد ذکر شروع کيږي.

بَلِ ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ ۚ بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْهَا ۚ بَلْ هُمْ مِّنْهَا عَمُوْنَ ﴿۶۶﴾

بلکه سترې ستومان، او له کار لویدلی دی علم د دوی په (کار د) آخرت کې، بلکه دغه (کفّار) په شک کې دي له دغه (قیامت)، بلکه دغه (کفّار) له دغه (قیامت) نه ړانده دي (د زړه په سترګو چې پرې باور نه کوي).

تفسیر: یعنې ډېر عقل او فکر یې وچلوه، او له ډېر فکر وهلو څخه بیخي سترې او ستومان شول، خو سره له هغه هم د آخرت په حقیقت او کیفیت ونه پوهېدل، کله د هغه په نسبت په حیرت شول، کله په شک کې ترې ولوېدل، او کله ترې منکران شول. (موضح القرآن).

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا وَءَابَآؤُنَآ أَئِنَّا لَمُخْرَجُونَ ﴿٦٧﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا هَٰذَا نَحْنُ وَءَابَآؤُنَا مِن قَبْلُ إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٦٨﴾

او وایي هغه کسان چې کافران شوي دي (او د زړه سترګې یې ړندې دي): آیا کله چې شو مونږ خاورې او پلرونه ځمونږ (هم خاورې شي)؛ آیا خامخا به مونږ رایستلی شو (ژوندي له ځمکې جزاء ته). خامخا په تحقیق وعده کړی شوې ده له مونږ سره د دې (بعث بعد الموت، هم) له مونږ سره، او هم له پلرونو ځمونږ سره له دې (وعدې د محمد نه) پخوا (د نورو انبیاوو له خوا)، نه دي دغه خبرې (بل شی) مګر لیکلي قصې (باطلې دروغ افسانې) دي د ړومبنیو (خلقو).

تفسیر: یعنې پخوا له دې نه ځمونږ له پلرونو سره هم داسې وعدې شوې وې، دغه ده چې عیناً نن له مونږ سره هم هغسې خبرې او اترې دغه رسول کوي، لیکن سره د دومره قرنو او پېړیو د تېرېدلو مونږ ته تر نن ورځې پورې دغه خبره نشوه څرګنده او نه مو واورېده چې وروسته له دې نه چې مړي په خاورو کې سره ګډوډ او مخلوط شي، هغه به بیا ژوندي کیږي، لکه چې د پخوا په شان روغ رمټ انسان ترې جوړ او عیان کیږي، او بیا د خپلو اعمالو سزا مومي؟.

قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٦٩﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) چې وګرځئ تاسې په ځمکه (د مکذبینو) کې، پس وګورئ چې څرنګه شو عاقبت (آخره خاتمه) د ګنهګارانو (کافرانو؟ او ترې عبرت واخلئ !).

تفسیر: یعنې ډېرو مجرمانو ته په همدغې دنیا کې عبرتناکه سزا ورکړی شوې ده، او د انبیاوو علیهم السلام مواعید پر دوی منطبق ګرځېدلي دي، پر همدغه دې د «بعث بعد الموت» قیاس هم ښایي چې وکړی شي، چې بالیقین بعث، حساب کتاب، ثواب عقاب، او اخروي عذاب شته، چې ټول ربښتیا دي، او الله تعالی له هغه څخه خبر راکړی دی، او هغه ضرور راتلونکی دی، او دغه لویه کارخانه هم داسې خوشې او بې نتیجې نه پاتې کیږي، او دغه هم امکان نه لري، چې پر دغو ټولو علوي او سفلي موجوداتو داسې کوم عمومي حاکم نه وي، چې حق په حقدار ورسوي، او خپل دغه ګرد رعایا همداسې مهمل پرېږدي، کله چې ټولو مجرمانو ته دلته پوره سزا نه ورکوله کیږي؛ نو یقیني ده چې هرومرو بل کوم ژوندون او جهان شته، چې هلته به هر څوک د خپلو اعمالو نتیجه او سزا او جزاء ومومي، که تاسې پر همدغه خپل تکذیب دوام (ټینګوالی) وکړئ؛ نو هم هغسې چې د نورو مکذّبینو آخره خاتمه او انجام شوی دی؛ ستاسې به هم کیږي.

وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُن فِى ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴿٧٠﴾

او مه خفه کېږه (ای محمده !) پر دوی (چې ستا تکذیب کوي او له ایمانه مخ اړوي)، او مه اوسه په تنګي (د زړه) کې له هغه چې دوی مکر کوي (له تا سره ځکه چې زه ستا حافظ او ناصر یم).

تفسير: يعني اى محمده ! دغه مكذبان د دوى په ښو او بدو په ښه شان سره وپوهوه ! او د آخرې خاتمې تنبيه ورته ورکړه !، وروسته له دغو پوهولو له دوى نه جدا شه !، که دغه خلق حق ونه مني؛ نو تاسې ډېر غمجن، متأسف او مه خفه کېږئ !، او نه د دوى د مکر او فريب او د حق په خلاف له تدبير کولو څخه زړه تنګ او ملول کېږئ؟ تاسې خو خپل فرض په پوره ډول سره اداء فرمايلى دى، الله تعالى پخپله داسې ضدي او عنادي کسانو ته سزا ورکوي، او هم هغسې چې پخواني مجرمان يې په سزا رسولي دي؛ دوى هم رسوي.

وَيَقُولُونَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٧١﴾

او وايي دا (کفّار) کله به وي دغه وعده (د نزول د عذاب) که يئ تاسې صادقان (رښتينې په دغې دعوى خپلې کې).

قُلْ عَسٰى اَنْ يَّكُوْنَ رَدِفَ لَكُمْ بَعْضُ الَّذِيْ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿٧٢﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) چې نژدې ده چې شي پيوست په تاسې پسې ځينې هغه (عذاب) چې غواړئ يې تاسې په جلتى.

تفسير: يعني ډېر شورماشور او غوغا مه نښلوئ !، هغه وعده هرومرو ايفاء کېدونکې ده، او هيڅ لرې نه ده چې د هغې وعدې کومه برخه تاسې ته ډېره نژدې شوې او در پورې نښتې هم وي، لکه چې ډېرې ورځې نه وې تېرې چې پر دوى باندې سخت قحط نازل شو، او هم د «بدر» په غزوه کې د دغه عذاب يوه برخه وروړسېده، پاتې شو قيامت کبرى؛ د هغه هم ځينې آثار او علائم در ښکاره شوي دي.

وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾

او بېشکه رب ستا خامخا څښتن (خاوند) د فضل (احسان، انعام) دى پر خلقو (چې دوى ژر په ګناهونو نه نيسي)، وليکن اکثر د دوى شکر نه کوي (په دې نعمت چې د عذاب تأخير دى).

تفسير: يعني که الله تعالى پخپل فضل او کرم سره د عذاب په لېږلو کې تاخير کوي؛ نو لازم وو چې دوى دغه تأخير غنيمت ګڼې، او د دغې مهربانۍ په مقابل کې يې شکر ايستى، او د صالح عمل لاره به يې خپلو ځانونو ته غوره کړې وى، ليکن پر خلاف د دې دوى ناشکري کوي، او په خپله خوله عذاب غواړي.

وَاِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿٧٤﴾ وَمَا مِنْ غَآئِبَةٍ فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿٧٥﴾

او بېشکه رب ستا ته خامخا معلوم دي هغه څه چې پټوي يې سينې (زړونه) د دغو (کفارو) او هغه څه چې ښکاره کوي يې دوى. او نشته هيڅ شى پټ پناه (له حوادثو) په اسمان او په ځمکه کې؛ مګر (ليکلى) دى په کتاب ښکاره (لوح محفوظ) کې.

تفسير: يعني ستاسې ظاهري او باطني اعمال، د زړونو پټې خبرې، نيات، ارادې، د ځمکې او د اسمانونو ډېر زيات پټ اسرار ګرد د الله تعالى په علم کې او د لوح محفوظ په دفتر کې درج دي، هره خبره له هغه سره موافقه واقع کېږي، تلوار کولو يا ځنډ کولو څخه هيڅ يو حاصل او ګټه په لاس نه درځي، هر هغه څيز چې د الله تعالى په علم کې طي شوى وي؛ ژر يا په ځنډ پر خپل وخت هرومرو کېدونکى دى، او هر يوه ته سم د ده له عمل، نيت، عزم او ارادې سره موافقه ثمره او نتيجه خامخا وررسېدونکې ده.

إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَكْثَرَ الَّذِي هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٧٦﴾
وَإِنَّهُ لَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾

بېشكه چې دغه قرآن قصه كوي (بيانوي) پر بني اسرائيلو باندې اكثر له هغو څيزونو چې دوی په هغو (څيزونو) كې سره اختلاف كوي. او بېشكه دغه (قرآن) خامخا هدايت دی او رحمت دی لپاره د مؤمنانو (چې هم دوی پری نفع اخلي).

تفسير: يعنې اوس د عملي فيصلې وخت نه دی راغلی، بېشكه قرآن د قولي او عملي فيصلې لپاره راغلی دی، په دغه وخت كې په سماوي علومو او مذهبي شيانو كې له ګردو څخه لوی علماء بني اسرائيل ګډل كېدل، مګر د عقائدو، احكامو، قصصو، روایاتو او نورو په متعلق د هغوی د شديدو اختلافو قاطعه فيصله او ښه تصفيه همدغه پاك قرآن اورولې ده.

إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُم بِحُكْمِهِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ ﴿٧٨﴾

او بېشكه رب ستا فيصله به وكړي په منځ د دوی كې (په قيامت كې) په حكم (عدل) خپل سره، او همدی ښه غالب قوي دی (په انفاذ د احكامو) ښه علم والا (پر ټولو احوالو او اشياوو).

تفسير: يعنې قرآن خو د پوهولو او ښوولو لپاره نازل شوی دی، باقي د ټولو معاملاتو حكيمانه او عادلانه فيصله سم له حكمته سره پخپله قدرت لرونكی قادر او توانا الله تعالى كوي.

فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۖ إِنَّكَ عَلَى الْحَقِّ الْمُبِينِ ﴿٧٩﴾

پس توكل (اعتماد) وكړه خاص پر الله (او د معاندانو له عداوته مه ويرېږه ای رسوله ځما !)، بېشكه ته پر حق ښكاره يې (چې اسلام دی).

تفسير: يعنې تاسې د هيڅا د اختلاف او تكذيب څخه مه متأثر كېږئ !، يواځې پر پاك الله اعتماد او توكل ولرئ !، او پخپله وظيفه كې چې دعوت او تبليغ دی؛ مشغول او لګيا اوسئ !، پر هغه سمه صافه لاره چې تاسې دروميځ؛ په هغې كې هيڅ قسم خرخشه او اندېښنه نشته، كله چې انسان پر سمه لاره رهي (روان) وي، او پر واحد الله تعالى اعتماد ولري؛ نو د بل هيڅ شي ويره او اندېښنه ورسره نه وي.

إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴿٨٠﴾ وَمَا أَنتَ بِهَادِي
الْعُمْيِ عَن ضَلَالَتِهِمْ ۖ إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ﴿٨١﴾

بېشكه ته نه شې اورولى (خبره) مړيو ته، او (همداسې) نشې اورولى كنړو ته غږ د نارو (د وعظ) كله چې وګرځي دوی په دې حال كې چې شا كوونكي وي. او نه يې ته لاره ښوونكی ړندو ته (چې يې راوګرځوې) له ګمراهۍ د دوی څخه، نه اوروې ته (په سماع د فائدې رسولو سره)؛ مګر هغه چا ته چې ايمان راوړي په آيتونو (د قدرت) ځمونږ، پس همدوی مسلمانان دي (غاړه ايښودونكي الله ته).

تفسير: يعنې هم هغسې چې يوه مړي ته خطاب يا كوم كانړه ته ناري وهل په تېره بيا چې تاته يې شاه هم وي، او په منډو در څخه ځغلي، او د ناري وهونكي په طرف قطعًا متلفت نه وي؛ سودمن نه دی، همدغه د هغو مكذبينو حال دی، چې د دوی زړونه مړه شوي دي، او په زړه كانړه هم دي، او د اورېدلو اراده هم بيخي نه لري، نو د دوی په حق كې هيڅ

نصيحت نافع او كار كوونكى نه دى، كه يو خاص ړوند د غټو او رڼو سترګو خاوند نشي؛ نو تاسې به هغه ته څرنګه لار يا بل شى وروښوولى شئ؟

يعنې پند او نصيحت د هغو خلقو په حق كې نافع دى، چې يې ومنې او پرې متأثر شى، او د اثر قبلول همدغه دى چې د الله تعالى پر كلام يقين او باور وكړي او ويې منې.

وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِّنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ ﴿٨٢﴾

او كله چې واقع ثابت شي خبر د عذاب پر دغو (بنې آدمانو او نژدې شي قيامت پر دوى)؛ نو راوبه باسو مونږ دوى ته يو دابه (ژوندى خوځېدونكې تلونكې) له ځمكې، چې خبرې كوي دغه (دابّه) له دوى سره، چې ببشكه دا خلق وو چې په دلائلو (د قدرت او الوهيت) ځمونږ به يې يقين نه كاوه.

تفسير: موضح القرآن ليكي: «پخوا له قيامته به په مكه معظمه كې د صفا غر وچوي، او له هغه څخه به يو ژوندى خوځېدونكى ووځي، چې له خلقو سره به خبرې كوي، چې اوس قيامت نژدې دى، او صادق مؤمن به له كاذب منكر څخه په نښه كولو سره ښلوي»، له ځينو روايتو ځنې معلومېږي چې دغه به بالكل په آخره زمانه كې واقع كيږي، چې لمر له مغربه وخېژي، نو قيامت د همدغې ورځې نوم دى، چې د ټولې دنيا ګرد موجوده نظام به په كې ګډوډ او خرابېږي، نو د داسې خوارقو په وقوع كې هيڅ تعجّب نه دى پكار چې د قيامت د قريبوؤ علاماتو او د دې مقدمې په شان ظاهرولى شي، ښايي د «دابة الأرض» په ذريعه د دې خبرې ښودنه مقصود وي؛ هغه خبره چې تاسې د يو رسول په ژبه نه منله؛ نن مجبور يئ چې د يوه حيوان په ژبه يې ومنئ !، مګر د دغه وخت منل تاسې ته مفيد او نافع نه دي، او له دغه څخه يوائې د مكذبينو تجهيل او تحميق مطلوب دى، چې د منلو وخت تېر شو.

وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ فَوْجًا مِّمَّن يُكَذِّبُ بِآيَاتِنَا فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿٨٣﴾

او (ياد كړه) هغه ورځ چې ژوندى به راپورته كړو له (قبورو د) هر امّت (فرقې) څخه يو فوج (چې اشراف او رؤساء دي) له هغو (منكرانو) چې تكذيب كوي په آيتونو ځمونږ، پس د دوى جماعتونه به سره يو ځاى كيږي، بيا روانيږي.

تفسير: د هر ګناه كوونكي ټولنه او لښكر به سره ښل وي.

تنبيه: عمومًا مفسرينو د ﴿فَهُمْ يُوزَعُونَ﴾ معنى په ستنولو (واپس كولو) سره كړې ده، يعنې د هر امّت مكذبان به د محشر په طرف بيول كيږي، او دوى به دغومره ډېر او زيات وي، چې وړاندې تلونكي خلق به د وروستنيو مخه بندوي، او له مخكې تللو څخه به يې ستنوي (واپس كوي)، لكه چې په لوى بيروبار او ازدحام كې د انتظام د ټينګ ساتلو لپاره همداسې وضعيت غوره او اختياروى شي.

حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوا قَالَ أَكَذَّبْتُم بِآيَاتِي وَلَمْ تُحِيطُوا بِهَا عِلْمًا أَمَّاذَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨٤﴾

تر هغه پورې چې راشي دوى (ټول محشر ته) نو وبه فرمايي (ورته الله) آيا تكذيب كړى وو تاسې د آيتونو ځما، حال دا چې احاطه نه وه كړې تاسې په هغو (آيتونو) له جهته د علمه، آيا څه شى دى هغه چې وئ تاسې چې كاوه به مو (هغه له مأمور بِه څخه؟ ووايئ !).

تفسير: يعنې زيار (محنت) يې ونه کړو، او کوښښ يې ونه کړ چې په پوره ډول به پرې پوهېدل، او تمامو اطرافو او جوانبو ته به يې کتل، ابتداء يې د هغه په تکذيب خوله وسپړدله، «يا ووايئ ! که داسې نه ده نو نور مو څه کول؟ يعنې ماسوا له دې نه ستاسې بل څه کار وو؟» امکان لري چې مطلب يې داسې وي، چې بې له غوره او فکر کولو څخه تاسې هم داسې د هغه تکذيب کړی وو؟.

وَوَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ بِمَا ظَلَمُوا فَهُمْ لَا يَنْطِقُونَ ﴿٨٥﴾

او واقع ثابته به شي خبره (د عذاب) پر دغو (منکرانو) باندې په سبب د هغه چې ظلم يې کړی وو، پس دوی به هيڅ خبرې نشي کولی (په عذر خواهی له جهته د عذاب لا متناهي).

تفسير: يعنې د دوی د شرارتونو يقيني ثبوت وشو، او د الله تعالی حجّت پر دوی تمام شو، اوس وروسته له دې نه به دوی څه ويلی شي؟.

أَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا اللَّيْلَ لِيَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٨٦﴾

آيا نه وينې دا (منکران د حشر) چې بېشکه مونږ ګرځولې مو ده شپه (توره تياره) لپاره د دې چې آرام وکړي دوی په کې، او (ګرځولې مو ده) ورځ ليدونکې (تکه سپينه روښانه چې کسب وکار په کې وکړي)، بېشکه په دغه (تعاقب د ليل او نهار) کې خامخا دلائل (د قدرت او عبرت) دي لپاره د (هغه) قوم چې ايمان راوړي.

تفسير: يعنې څرنګه ښکاره دلائل او واضحې نښې الله تعالی په دنيا کې دوی ته وروښودې، خو دوی لږ څه هم پر هغو فکر او غور ونه کړ، که يواځې د شپې او د ورځې پر دغه دائمي تبديل او تحويل او نورو اختلافاتو دوی خپل افکار چلولی او پرې غور او خوض يې کولی؛ نو د الله تعالی پر توحيد، د انبياوو پر ضرورت او اهميت او پر «بعث بعد الموت» پر ګردو شيانو به دوی پوهېدل، چې بالآخر هغه کوم يو ذات دی چې داسې مضبوط او محکم انتظام سره برابر وروسته له ورځې څخه شپه، او د شپې څخه ورځ رانښکاره کوي، او ځمونږ د ظاهري بصارت لپاره وروسته د شپې له تيارو د ورځې رڼا خوروي، نو آيا دغسې يو مطلق قادر ځمونږ د باطني بصيرت لپاره د اوهامو او اهواوو په تيارو کې د معرفت او هدايت رڼا نه ده رالېږلې؟.

وَيَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ فَفَزِعَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَن شَاءَ اللَّهُ ۚ وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَاخِرِينَ ﴿٨٧﴾ وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ۚ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ ﴿٨٨﴾ مَن جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِّنْهَا ۖ وَهُم مِّن فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ آمِنُونَ ﴿٨٩﴾ وَمَن جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٠﴾

او (ياد کړه) هغه ورځ چې پوکی وکړ شي په صور (شپېلی) کې، نو ويريږي (له ډېره هيبته) هر هغه څوک چې په اسمانونو کې دي، او هر هغه څوک چې په ځمکه کې دي، مګر هغه څوک چې اراده وفرمايي الله (د نه ويرېدلو د هغه)، او ټول به راشي د دغه (الله په حضور په قيامت کې) عاجزان. او وينې به ته غرونه (په قيامت کې) ګمان به کوې ته پر هغو چې کلک ولاړ دي (له

جهته د لويوالي) حال دا چې دوی به ځي تيريږي پشان د ورېځې، کاريګري د الله (يا وکړ دا کار الله په کولو سره) هغه (الله) چې محکم (درست) کړی يې دی هر څيز (چې پيدا کړی يې دی)، بېشکه چې دغه (الله) ښه خبردار دی په هغو کارو چې کوئ يې تاسې. هر هغه څوک چې راشي په حسنه (نېکی) سره (چې کلمه د توحيد ده)؛ پس شته ده ته (جزاء) بهتر غوره له هغه، او دوی به له سختې وېرې د دغې ورځې په امان وي. او هر هغه څوک چې راشي په سيئه (بدی شرک سره)؛ پس نسکور به وغورځول شي مخونه د دوی په اور (د دوزخ کې، او وبه ويل شي دوی ته له جانبه د الله) آيا جزاء درکوله کيږي (بلکه نه درکوله کيږي)؛ مګر (جزاء د شرک او نورو معاصيو) هغه چې وئ تاسې چې کول به مو (په دنيا کې).

تفسير: د صور «شپېلی» پو کوونکې پرښته اسرافيل عليه السلام دی، چې د الله تعالی د حکم په انتظار کې د صور د پوکولو لپاره تيار ولاړ دي.

په ځينو روایاتو کې راغلي دي چې: ﴿إِلَّا مَنْ شَآءَ اللَّهُ﴾ جبرئيل، ميکائيل، عزرائيل عليهم السلام دي، ځينې د دې مصداق شهداء بولي، والله أعلم.

(موضح القرآن) ليکي: يو ځلې صور پوکلی کيږي، چې د هغه په اثر به ګرد مخلوق سره مري، دوهم صور چې وپوکلی شي؛ د هغه په اثر ټول مړي بيا له سره ژوندي کيږي، دريیم صور چې وپوکلی شي؛ دوی ګرد ويريږي، په ځلورم کې ګرد بېهوشه کيږي، په پنځم کې بيا په هوش کيږي، د «صور» پوکل به څو ځلې صورت نيسي، اکثر علماء يواځې هم دغه دوې نفخې مني، يعنې ګرد سره فقط دوه ځلې صور پوکلی کيږي، او دغه ګرد احوال او اهوال د هم دغو دوو شپېليو لاندې درجوي، والله أعلم.

﴿وَتَرَى الْجِبَالَ﴾ الآية - او وينې به ته غرونه په قيامت کې، ګمان به کوې ته پر هغوی چې کلک ولاړ دي، له جهته د لويوالي، حال دا چې دوی به تيريږي په شان د ورېځې، يعنې دغه لوی لوی غرونه چې تاسې يې اوس وينئ، او د دې خيال کوئ چې دغه به تل پر ځمکه کلک ولاړ وي، او له سره به له خپله ځايه نه ښوريږي، دغه ګرد به د قيامت په ورځ کې د ټکولو شويو رنګينو وړو په شان په فضاء او هواء کې الوځي او ګرځي، او د ورېځو په شان به ژر ژر درومي، لکه چې د (۲۷) جزء د «الواقعة» سورت په اوله رکوع (۵-۶) آيتونو کې داسې يو آيت لولو: ﴿وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا * فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنۢبَثًّا﴾ او په «القارعة» کې لولو ﴿وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنفُوشِ﴾، او (۱۶ جزء د «طه» سورت په (۶) رکوع، (۱۰۵) آيت کې) لولو: ﴿وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّى نَسْفًا﴾.

تنبيه: د دغه آيت هيڅ تعلّق د ځمکې د حرکت او سکون سره نشته، لکه چې ځينې متنورين له هغه ځنې پوهېدلي دي.

﴿صُنْعَ اللَّهِ الَّذِىٓ أَتْقَنَ كُلَّ شَىْءٍ﴾ يعنې هغه ذات چې هر شی يې په نهايت حکمت سره درست کړ، هغه الله تعالی چې نن يې دغه غرونه داسې درانه او مضبوط جوړ او درولي دي، هم هغه الله تعالی به يوه ورځ دوی بڅرکي بڅرکي او دړې وړې کوي، او تري دوړې به جوړوي، او په هواء به يې الوځوي، دغه د غرونو الوځول به د خرابۍ او تباهۍ په غرض نه وي، بلکه د عالم په نظام کې به سره لاندې باندې او لازمه تعديلات کوي، او په همغه درجه يې رسوي چې د هغه لپاره يې پيدا کړي دي، نو دغه ګرد به د هغه حقيقي صانع صنعت او کاريګري وي، چې د هغه هيڅ يو تصرّف له حکمت څخه تش نه دی، ﴿إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَفْعَلُونَ﴾ الله تعالی ستاسو په اعمالو خبردار دي چا چې څه کړی وی د هغه پوره جزاء به ورکول کيږي نو چا چې نيکی کړي وي توحيد کلمه يې ويلی وي، او عقيده يې پری ساتلی وي نو هغه ته به ښه بدله وي، او چا چې شرک او بد عمل کړي وي هغه ته به د هغه د شرک او بد عملونو سزا پوره ورکول کيږئ.

إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ الْبَلْدَةِ الَّذِي حَرَّمَهَا وَلَهُ كُلُّ شَيْءٍ

بېشکه همدا خبره ده چې امر (حکم) کړی شوی دی ماته داسې چې عبادت کوم د رب د دې بلدې (ښار) هغه (الله) چې حُرمت (عزت يې) ورکړی دی دې (ښار د مکې ته په امن سره)، او خاص همدغه الله لره دي (ملکا، خَلقًا، وعبيدًا) هر شی.

تفسير: له بلده او ښار څخه مراد مکّه معظّمه ده، چې الله تعالی هغې ته خاص تعظيم، تحريم او تکريم ور په برخه کړی دی، نو د دغه تخصيص او تشريف په سبب د رب اضافت د هغې په طرف وکړ شو، که نه الله تعالی خو ګردو شيانو رب او مالک دی.

وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ

او امر (حکم) کړی شوی دی ماته داسې چې شم زه له مسلمانانو (غاړه ايښودونکيو الله ته).

تفسير: يعنې په هغو خلقو کې محسوب شم، چې د پاک الله کامل حکم منونکي او فرمان وړونکي دي، او بيخي يې خپل ځانونه ورسپارلي دي.

وَأَنْ أَتْلُوَ الْقُرْآنَ فَمَنِ اهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِ وَمَنْ ضَلَّ فَقُلْ إِنَّمَا أَنَا مِنَ الْمُنْذِرِينَ

او (بل مأمور يم) په دې چې ولولم قرآن (پر تاسو، وايې وروم خلقو ته)، پس هر چا چې سمه صافه لاره ومونډله؛ پس بېشکه همدا خبره ده چې سمه صافه لاره يې ومونډله لپاره د ځان (او فائدې خپلې)، او هر څوک چې ګمراه شو؛ پس ووايه (ای محمده ! ده ته) بېشکه همدا خبره ده چې زه له ويروونکيو څخه يم.

تفسير: يعنې زه بالذات هم د الله تعالی بندګي او فرمان برداري کوم، او نورو ته هم د الله تعالی دغه عظيم الشأن قرآن اوروم، او د هدايت سمه صافه لاره خلقو ته وربنيم، پس هر څوک چې لاره يې ومونډله له جهته د متابعت ځما توحيد د الله او نفي د شرکاوو ته؛ پس بېشکه همدا خبره ده چې لاره يې ومونډله لپاره د ځان خپل، ځکه چې نفع يې همده ته راجع ده، او هر څوک چې ګمراه شو له جهته د مخالفت ځما؛ پس ووايه ورته چې: بېشکه همدا خبره ده چې زه له ويروونکيو څخه يم، او پر ما غير له پيغام رسولو بل هيڅ نشته، او وبال د ضلال د بل چا پر ما نه لويږي، يعنې ما خپل پند او نصيحت کړی دی، او له دغه تبليغه مې ځان فارغ الذمه ګرځولی دی، که تاسو نه پوهېږئ، يا ځان پرې نه پوهوئ؛ نو په دغه صورت کې ستاسو نقصان دی، او دغه احکام پخوا له امر د قتال وو.

وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ سَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ فَتَعْرِفُونَهَا وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ

او ووايه (ای محمده !) چې تولې ثناوې ستاينې (صفتونه) (خاص) الله ته دي (په دغه نعمت د علم او نبوّت)، ژر به وښيي (الله) تاسې ته دلائل (د قدرت خپل)؛ پس وبه پېژنئ تاسې هغه (دلائل)، او نه دی رب (پالونکی) د تا غافل (بېخبره) له هغو عملونو نه چې کوئ يې تاسې (ای مشرکانو نو جزاء به ورکړي هر چا ته د ده له عمله سره سمه).

تفسير: يعنې الله تعالی ته په زړهاوو ځلې د حمد او شکر ځای دی، چې زه يې هادي او مهتدي ګرځولی يم، في الحقيقت د تعريف لايق هم هغه لوی او مقدّس ذات دی، هر چا ته هر هغه ښېګڼې يا کمال چې ور په برخه شوی دی؛

د ده له لطف او مرحمت څخه دی، ژر به وښيي الله تاسې دلائل د قدرت خپل، پس وبه پېژنئ تاسې هغه دلائل، يعنې وروسته له دې نه الله تعالى ستاسې په منځ کې يا د باندې د خپل قدرت هغه نمونې او ځما د صداقت داسې ښکاره دلائل به درښيي؛ چې د هغو په ليدلو سره به تاسې وپوهېږئ چې بېشکه دغه د الله تعالى هغه آيات دي، چې د هغو اطلاع مونږ ته رسول الله صلى الله عليه وسلم راکړې وه.

تمت سورة النمل، ولله الحمدُ والمنة.

سُورَةُ القَصَصِ

«د (القصص) سورت «مکّي» دی، پرته له (۵۲) تر (۵۵) آیتونو پورې، چې «مدني» دي، او له (۸۵) آیت څخه چې په جحفه کې د هجرت په جریان کې نازل شوی دی، (۸۸) آیتونه (۹) رکوع لري، په تلاوت کې (۲۸) او په نزول کې (۴۹) سورت دی، وروسته د «النمل» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

طسٓمٓ ﴿۱﴾ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْمُبِينِ ﴿۲﴾ نَتْلُو عَلَيْكَ مِن نَّبَإِ مُوسَىٰ وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿۳﴾

دا (آیتونه د دې سورت) آیتونه د کتاب مبین (ښکاره) دي (چې خیر او برکت یې ښکاره او د حق او د باطل بېلوونکی دی). لولو مونږ پر تا (ای محمده !) له (ځینو) خبرو د موسی او د فرعون په حقه (رښتیا) سره، لپاره د (هغه) قوم چې ایمان راوړي.

تفسیر: یعنې مسلمان خلق دې خپل حال قیاس کړي ! (موضح) د ظالمانو په مقابل کې څرنګه چې د موسی علیه السلام په ذریعه الله تعالی بني اسرائیل سره له ضعف او کمزورۍ د فرعونیانو په مقابل کې منصور او مظفر وګرځول؛ همداسې مسلمانانو ته هم اګر که نن په مکې معظمې کې قلیل - ضعیف او ناتوانه په نظر راځي، د دوی د بېشمارو زورورو اعداوو په مقابل کې بری او کامیابي ور په برخه کوي.

إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِّنْهُمْ

بېشکه چې فرعون لویي (او تکبّر) غوره کړی وو په ځمکه (د مصر) کې، او ګرځولي یې وو اهل د دغه (مصر) ټولی ټولی، چې ضعیفه (مقهوره) کړي یې وه یوه طائفه له دوی (چې بني اسرائیل وو).

تفسیر: یعنې په مصر کې قبطیان ودان وو، چې د فرعون له قوم څخه وو، او سبطیان هم اوسېدل چې په بني اسرائیلو سره مشهور وو، لیکن فرعون به د ظلم او تکبّر له لارې بني اسرائیلو ته فرصت او موقع نه ورکوله، چې دوی ترقي وکړي، او په هوسایی (راحت) او آرام سره ډډه ولګوي، ګواکې ګرد قبطیان سرداران او آغایان ګرځیدلي وو، او د انبیاوو اولاد بني اسرائیل یې خپل غلامان او نوکران ګرځولي وو، او پر دوی به یې ډېر ذلیل کارونه او سخته بیګاري اجراء کوله، او په هیڅ ډول یې نه پرېښودل چې دوی په مملکت کې قوت او وقعت حاصل کړي.

يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ

چې وژل به یې ځامن د دوی (چې نسل یې منقطع شي) او ژوندۍ به یې پرېښودې ښځې (جنکیانې) د دوی (خپل خدمت ته).

تفسیر: مفسّرین وایي چې: فرعون یو خوب ولید چې کاهنانو د هغه تعبیر داسې وکړ چې: «د کوم داسې بني اسرائیلي هلک له لاسه به ستا دغه سلطنت تباه او بربادیږي، چې لا تر اوسه نه دی ځېرېدلی»، نو ځکه فرعون د دغې پېښې د

مخې نيولو په قصد دغه د ظلم او حماقت تدبير له خپله ځانه وويست، چې د تل لپاره بني اسرائيليان مغلوب، مقهور او ذليل وساتي، څو په دوی کې داسې کوم قوّت او قدرت پيدا نشي، چې له هغه څخه د بغاوت او شرارت کومه اندېښنه متصوره وي، او داسې امر يې صادر کړ: «وروسته له دې نه هومره بني اسرائيلي هلکان چې پيدا کيږي؛ دوی دې د يوې مخې څخه ووژلی شي !، او په دغه ترتيب دې د راتلونکي مصيبت او خطرې مخه په ښه شان سره ونيوله شي، کله چې قبطيانو ته د سبطيانو د جونو له خوا داسې کومه خطره نشته؛ نو دوی دې ژوندی پرېښودی شي، څو وروسته له پېغلتوبه له هغوی څخه قبطيان د وينځو په شان کار واخلي».

إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُفْسِدِينَ ۝٤

بېشکه وو دغه (فرعون) له مفسدانو (چې راز راز فسادونه به يې کول).

تفسير: يعنې فرعون خو بالطبع په ځمکه کې خرابي غورځوونکی وو، نو ځکه د داسې لوی ظلم او ستم څخه له سره نه لرغېده، او نه يې زړه خوږېده.

وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ ٱلْوَٰرِثِينَ ۝٥ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ

او اراده وکړه مونږ د دې چې منّت احسان کېږدو پر هغو کسانو چې ضعيفان کړی شوي وو په ځمکه (د مصر) کې، او چې وګرځوو مونږ دوی امامان (مقتدايان)، او وګرځوو مونږ دوی وارثان (د ملک د فرعون). او چې قُدرت ورکړو مونږ دوی ته په ځمکه (د مصر او شام) کې.

تفسير: يعنې د دغه ملعون انتظامات خو هغه وو، او ځمونږ اراده داسې وه چې کمزوران زورور کړو، او ټيټ مخلوق هسک (اوچت) کړو، او د هغه قوم پر سر د ديني امامت او دنيوي سيادت تاج کېږدو، چې د فرعون او فرعونيانو له لوري ذليل حقير او مريان شوي وو، او له هغو ظالمانو او متکبّرانو څخه هغه ځمکه پاکه او صافه کړو.

وَنُرِىَ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ

او چې وښيو فرعون او هامان (وزير ته يې).

تفسير: هامان د فرعون وزير او د ده په ظلم، ستم او تيري کې له ده سره شريک، د ده د کار آله او د لاس د يوې همسا په شان وو.

وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَحْذَرُونَ ۝٦

او لښکرو د دغو دواړو ته له دغو (بني اسرائيلو نه) هغه شی چې وو دوی چې ويرېدل (به ترې چې زوال د قوّت او سلطنت د قبطيانو دی).

تفسير: يعنې د هغې خطرې لامله چې دغو قبطيانو د سبطيانو پر زرهاوو معصومو هلکان وژلي وو؛ مونږ اراده وفرمايله چې هم هغه خطره وردمخه کړو، فرعون خپل ګرد امکاني کوښښ او زيار (محنت) پکار واچولو، چې په هيڅ صورت هغه بني اسرائيلی هلک چې د هغه له لاسه د ده سلطنت تباه کيږي؛ مصئون او مأمون پاتې نشي، او فرعون د ده له شره ساتلی وي، مګر کله چې د الله تعالی د ارادې په مقابل کې هيڅ مانع نه شي درېدی؛ نو هم هغه معهود هلک يې د ده په غېږ کې وپاله، او د دوی په وسيله يې وساته، او دغه يې علی رؤوس الأشهاد ثابت او محقق کړ؛ د هر هغه کار او انتظام اراده چې الله تعالی وفرمايي؛ هيڅ يو قوّت او قُدرت د هغه په انسداد کې نه موفّق کيږي.

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ أَنْ أَرْضِعِيهِ ۖ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِى ٱلْيَمِّ

او وحي (الهام) وکړ مونږ مور د موسی ته داسې چې تی ورکوه ته دغه (موسی) ته، نو کله چې وویرېدې ته (په ده)؛ پس وغورځوه دغه (موسی سره له تابوته) په سیند کې.

تفسیر: د موسی علیه السلام مور ته یا الهام وشو، یا یې په خوب کې ولید، یا په بله کومه ذریعه ورمعلومه شوه، څو چې تاته خپل د دې هلک د وژلو ویره او اندېښنه نه وي پیدا شوي؛ په منظم ډول سره یې وپاله !، او تی ورکوه !، کله چې د وژلو ویره درته پیدا شي؛ نو په یوه صندوق کې یې تابوت کړه، او د نیل په سیند کې یې لاهو کړه، دغه قصه د «طه» په سورت کې هم لیکلې شوې ده.

وَلَا تَخَافِى وَلَا تَحْزَنِى ۖ إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ۝٧

او مه ویرېږه ته (له غرق یې) او مه خفه کېږه ته (له بېلتون یې) ! بېشکه چې مونږ بېرته راوستونکي یو د دغه (موسی) تاته، او (بیا) ګرځوونکي یو د دغه (موسی) له مرسلانو (پیغمبرانو).

تفسیر: یعنې مور ته یې ډاډینه او تسلي ورکړه شوه، چې مه ویرېږه، او بې له کوم تردّد او اندېښنې یې په سیند کې لاهو کړه !، ستا دغه هلک له سره نه ضایع کیږي، او د خپل ځوی د دغه بېلتون څخه هم مه خفه کېږه ! چې مونږ یې ډېر ژر بېرته ستا غېږې ته درولو، او د پاک الله اراده په دې خبره تللې ده، چې له دې نه یو ډېر لوی کار واخلي، او د رسالت په منصب یې افتخار وبخښي، او هیڅ یو قوت او طاقت د الله د ارادې په مخ کې حائل او مانع نشي کېدی، او دغه ګرد موانع به له منځه لرې کیږي، او دغه مقدّس مقصد هرومرو پوره کېدونکی دی، چې د دغه محترم مولود له وجوده سره متعلق دی.

فَٱلْتَقَطَهُۥٓ ءَالُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا ۗ إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا كَانُوا۟ خَٰطِـِٔينَ ۝٨

پس ومونډ دغه (او ونیو تابوت د موسی) کورنۍ د فرعون لپاره د دې چې شي دغو (فرعونیانو) ته دښمن او (سبب د) غم، بېشکه چې فرعون او هامان (وزیر یې) او لښکرې د دغو دواړو وو (دا ټول) خطاکاران.

تفسیر: مور یې خپل هلک د لرګیو یوه صندوق کې وغورځوه، او د سیند په اوبو کې یې خوشې کړ، صندوق د اوبو د جریان په متابعت په داسې یوې ویالې کې لاړ چې د فرعون په باغ کې تېرېده، او هلته د مېرمنې آسیې رضي الله تعالی عنها د فرعون ښځې په لاس کې ولوېد، مېرمنې آسیې رضي الله تعالی عنها ته ددغه ښکلي هلک ښکلي صورت ډېر ښه په نظر ورغی، او د ده په وچولي (تندي) کې د نجابت او شرافت آثار ورښکاره شول، نو یې د پاللو په غرض راپورته کړ، مګر د دې پورته کولو آخري نتیجه داسې شوه، چې دغه وړوکی لوی شو، او د فرعون او د فرعونیانو سخت مخالف او دښمن ثابت شو، او د دوی په حق کې د روح د سوهان په شان عیان شو، نو ځکه الله تعالی هغوی ته موقع ورکړه چې دی راپورته کړي، لعین فرعون له دې څخه څه خبر وو، د هغه دښمن له وېرې چې زه په زرهاوو معصوم هلکان وژنم، هغه هم دغه هلک دی، چې نن په ډېر ناز او نعمت سره ځمونږ په لاسو د هغه پالنه او روزنه کیږي.

وَقَالَتِ ٱمْرَأَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّى وَلَكَ ۖ

او وویل ښځې د فرعون (آسیې چې دغه هلک) یخوالی د سترګو دی ماته او تاته.

تفسير: يعنې څومره ښکلی، ګلالی او په زړه پورې هلک دی، مونږ هلک نه لرو، راځئ ! چې له ده سره خپل فهم غلط کړو، او سترګې پرې رنې او زړونه مو خوښ کړو.

لَا تَقْتُلُوهُ عَسَىٰ أَن يَنفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا

مه وژنئ دغه (هلک) ښايي چې نفع به راورسوي مونږ ته، يا به ونيسو دی څوی.

تفسير: يعنې کله چې لوی شي؛ څمونږ په کار به راشي، او که مو مناسب وګڼه؛ نو خپل متبني به يې وګرځوو.

وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ۝٩

حال دا چې دوی نه پوهېدل (پر دغه سبب د هلاک د فرعونيانو).

تفسير: يعنې له دې نه خو نه وو خبر؛ کله چې دی لوی شي نو څه څه کارونه به وکړي؟ آيا دغه خبره خو ضروري نه ده، چې همدغه هلک به هم هغه څمونږ معهود دښمن وي، چې مونږ ترې اندېښنه لرو، بيا چې يې کله مونږ وپالو، نو دی به څرنګه څمونږ په خلاف څه اقدام وکړي؟، دوی له دې نه نه وو خبر چې دغه هلک به له هغه لوی ذات سره زياته دوستي کوي، چې د ګرد جهان رب او پالونکی دی، او کله چې تاسې د هغه ربّ العالمين دښمنان يئ؛ نو ځکه دی به مجبور وي چې د هغه حقيقي رب العالمين په حکم ستاسې سره مخالفت وکړي.

وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَارِغًا ۖ إِن كَادَتْ لَتُبْدِي بِهِ لَوْلَا أَن رَّبَطْنَا عَلَىٰ قَلْبِهَا لِتَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ۝١٠

او سبا ته وګرځېد زړه د مور د موسی تش له صبره قراره (او له نورو افکارو پرته ـ علاوه د غمه د موسی)، بېشکه چې نژدې وه چې اظهار وکړي په دغه (موسی سره چې څوی مې دی) که چېرې نه وی محکم کړی مونږ (صبر او ثبات) پر زړه د دې، چې شي دا له باور کوونکيو (په وعده د الله سره).

تفسير: اګر که د موسی عليه السلام مور د موسی عليه السلام تابوت په سيند کې لاهو کړ، مګر د موروالي لورينې او د موروالي مينې کله دې ته اجازه ورکوله او آرامه به يې پرېښوده، چې د موسی عليه السلام له حاله او له يادې غافله پاتې شي، نو شپه او ورځ به د موسی عليه السلام فکر او ذکر له دې سره مل وو، او له زړه څخه يې صبر او قرار فرار کړی وو، اونژدې وو چې د ضبط او صبر تار ترې وشليږي، او په عمومي ډول سره د ژړا او انګولا په ضمن کې دغه خبره ترې څرګنده شي، چې زه هغه کمبخته مور يم چې خپل ځوی مې په خپل لاس په سيند کې غورځولی دی، که چا موندلی وي يا يې پته ور معلومه وي؛ نو راته ودې وايي، مګر د الله تعالی دغه الهام ﴿إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾ به ورته ډاډينه او تسلي ورکوله، نو دغه د الله تعالی کار وو چې د دې زړه ته صبر، ثبات، او تسکين ور په برخه کړي، څو د الله تعالی اسرار پخوا له وخته افشاء او اظهار نه شي، او لږ څه مدّت وروسته پخپله د موسی عليه السلام مور ته عين اليقين حاصل شي، چې د الله تعالی دغه وعده هرومرو پوره کېدونکې ده.

وَقَالَتْ لِأُخْتِهِ قُصِّيهِ ۖ فَبَصُرَتْ بِهِ عَن جُنُبٍ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ۝١١

او ويل (مور د موسی) خور د دغه (موسی) ته چې څه برابره ورور پسې دې (او خبر يې راوړه)، پس کتل به يې دغه (موسی) ته له لرې ځايه (لکه پردی) حال دا چې دغه (فرعونيان) نه پوهېدل (په دغه خورولی او جاسوسی د دې).

تفسیر: یعنې کله چې د فرعون په حرم سرای کې هغه صندوق خلاص او دغه هلک په کې وموندل شو، او په ګرده دنیا کې یې آوازه (انګازه) ګډه او شهرت یې وموند، د موسی علیه السلام مور خپلې لور د موسی علیه السلام خور ته لا له پخوا څخه حکم ورکړی وو، چې ته دې د خپل ورور په سراغ او پته لګولو پسې تل لګیا اوسه !، او له لرې په پټه سره د هغه حال او احوال ځان ته معلوم کړه ! چې چېرې پیدا کیږي؟ او څه ما جرا پرې تیریږي؟ کله چې دغه جینۍ پوهه او هوښیاره وه، د هغه شهرت او انګاځې په اثر یې ژر ځان برابر هم هغه ځای ته ورسوه، چې پر هغه له سینده موندلي هلک باندې لوی ازدحام او بیروبار جوړ شوی وو، او هلته لکه یوه بې تعلقه اجنبیه لرې ودرېده، او هیڅ څوک په دې ونه پوهېدل چې دا د دغه هلک خور ده.

وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ فَقَالَتْ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ أَهْلِ بَيْتٍ يَكْفُلُونَهُ لَكُمْ وَهُمْ لَهُ نَاصِحُونَ ﴿١٢﴾

او حرام (منع) کړي وه مونږ پر دغه (موسی تې رودل د) دایګانو له پخوا (د ښېرته ورتلو مور خپلې ته)، نو ویل (خور د موسی) آیا خبر کړم زه تاسې پر اهل د (داسې) کاله باندې چې واخلي وساتي دا (هلک) تاسې ته، او دوی به ده ته له خیر غوښتونکیو وي.

تفسیر: یعنې د فرعون ښځې ملعون فرعون هم د دغه هلک په پالنه او ساتنه راضي کړ، دلته د تې ورکوونکیو فکر ورپیدا شو، او ډېرې دایګانې یې طلب کړې، مګر الله تعالی لا له پخوا څخه د موسی علیه السلام شونډې کلکې تړلې وې، چې پرته (علاوه) د خپلې مور له تې څخه د بل چا تې په خوله ونه نیسي، نو سخت تشویش ور پیدا شو، چې داسې یوه مرضعه له کومه ځایه راپیدا کړه شي، چې دغه هلک یې تې وروي؟ ولې چې موسی علیه السلام به مطلقا د هیڅ یوې مرضعې تي ته خپل مخ نه آړاوه، فرعوني خدم او حشم په همدغه فکر او اندېښنه کې وو چې د موسی علیه السلام خور وویل چې: «زه د داسې یوې کورنۍ معرفي تاسې ته کولی شم، چې ډېره پاکه او صافه ده، او ممکن دي چې دغه هلک د هغې کورنۍ د کومې ښځې تې وروي، او تر هغه ځای پورې چې زه معلومات لرم؛ هغوی به په ډېرې لورینې (مهربانی) او خیر غوښتنې سره د دغه هلک روزنه او پالنه کوي، ځکه چې هغه کورنۍ ډېره شریفه او نجیبه ده، او علاوه پر هغه د باچاهی له کوره د انعام او اکرام لوی توقّعات هغوی لا په دې اړوي چې پر دغه هلک ښه توجه او فهم ولري».

بالنتیجه د همدې جینۍ په مشوره د موسی علیه السلام مور وغوښتله شوه، په مجرد د دې چې د خپلې مور بوی پر موسی علیه السلام ولګېده؛ په ډېره مینه او محبت سره یې خپل ځان د مور په تي پورې ونښلوه، او په غږ کهار سره یې په تي رودلو شروع وکړه، فرعوني کورنۍ ته د دغې ښځې پیدا کېدل ډېر غنیمت معلوم شول، چې بالآخر هغه هلک د یوې مرضعې یعنې د خپلې مور تي سره پخلا شو، او شودې یې روي، په دغه ټول سره خوښ او خوشال شول.

فَرَدَدْنَاهُ إِلَىٰ أُمِّهِ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ

پس ښېرته راوست مونږ دغه (موسی) مور خپلې ته لپاره د دې چې یخې (او رنې) شي سترګې د دې (په ښېرته رسېدو د موسی)، او چې نشي غمجنه (په ښلتون یې)، او لپاره د دې چې وپوهیږي (په عین الیقین هم) په دې چې ښکه وعده د الله حقه ده.

تفسیر: یعنې په ﴿إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾ کې دوه وعدې ورسره شوې وې، یوه خو هم هغه وعده وه چې مور یې پخپلو سترګو ولیده چې په څه یو حیرانوونکي طریقه پوره او تر سره شوه، او د دویمې وعدې د پوره کېدولو لپاره ورته قیاس موقع پیدا شوه، چې ښکه هغه هم په خپل وخت او نښه پوره کېدونکي ده.

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾

ولیکن اکثر د دوی نه پوهیږي (پرې چې حقه ده).

تفسیر: یعنې د الله تعالی وعده هرومرو رسېدونکې او واقع کېدونکې ده، هو ! په منځ کې ډېر خنډونه او موانع پېښیږي، چې د هغو په نسبت ډېر ضعیف الاعتقاد کسان متردّد او مشتبه کیږي، (موضح).

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَاسْتَوَىٰ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١٤﴾

او کله چې ورسېد (موسی) زور (قوّت د ځوانۍ خپلې) ته، او برابر شو (په عقل)؛ نو ورکړ مونږ ده ته حکمت (نبوّت) او علم (پوهه)، او همداسې (مهرباني چې وکړه مونږ په موسی او مور یې؛) جزاء ورکوو مونږ نیکي کوونکو ته.

تفسیر: یعنې کله چې موسی علیه السلام د خپل رُشد او ځلمیتوب وخت ته ورسېد؛ نو مونږ ده ته ډېرې د حکمت خبرې وروښودې، او خصوصي علم او فهم او پوهه مو ورکړه، ځکه چې دی د هلکتوبه صالح او نېک عمل وو، نو داسې پوهو او قابلو خلقو سره ځمونږ لطف او مرحمت همداسې مبذول کیږي.

وَدَخَلَ الْمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِ وَهَٰذَا مِنْ عَدُوِّهِ ۖ فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِي مِن شِيعَتِهِ عَلَى الَّذِي مِنْ عَدُوِّهِ فَوَكَزَهُ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيْهِ ۖ قَالَ هَٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ ۖ إِنَّهُ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَغَفَرَ لَهُ ۚ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿١٦﴾

او ننوت (موسی) ښار (د مصر) ته په وخت د غفلت د اهل د هغه کې (د غرمې په وخت کې چې ویده وو)، پس ویې موندل په دغه ښار کې دوه سړي چې جګړه یې سره کوله، دغه یو (سبطي) له تابعانو د دغه (موسی وو)، او هغه (بل قبطي) له دښمنانو د دغه (موسی) وو، پس مرسته (مدد) وغوښته دغه (سبطي) چې له تابعانو د دغه (موسی) وو پر هغه (قبطي) چې له دښمنانو د ده وو، پس په سوک وواهه هغه (قبطي) لره موسی؛ پس قضاء وکړه (الله) په دغه قبطي (چې مړ یې کړ په سوک د موسی سره، کله چې د وژلو قصد یې نه وو کړی، او نه وو مأمور په قتل د هغه؛ نو ځکه) وویل (موسی) چې: دغه کار له عمله د شیطان دی، بېشکه چې دغه (شیطان) دښمن دی (د انسانانو) لغزوونکی دی ښکاره. وویل (موسی) ای ربه ځما ! بېشکه زه چې یم ظلم مې کړی دی په نفس خپل (په قتل د دغه قبطي سره)، پس مغفرت وکړه ماته (د دغې ګناه ځما)، پس مغفرت وکړ (الله) دغه (موسی) ته، بېشکه چې (الله) همدی دی خامخا ښه بخښونکی د (خطیاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسیر: موسی علیه السلام وروسته له ځلمیتوبه یوه ورځ په داسې وخت کې ښار ته ورسېده چې خلق غافل ویده وو، ښایي چې یا به د شپې یا به د غرمې وخت وو، موسی علیه السلام چې کله ځلمی شو؛ د فرعون له قوم او د دوی د ظلم او کفر له سببه بېزاره وو، او تل به یې له بني اسرائیلو سره ناسته او ولاړه درلوده، د ده د مور کور د ښاره د باندې وو، موسی علیه السلام به کله کله هلته ورته، او کله به د فرعون کره هم ورته، د فرعون قوم (قبط) د ده سره هم عداوت او دښمني درلوده، او داسې به یې د ده په نسبت ویل چې: دی ذاتًا د غیر قوم یو ځلمی دی، نه چې د زور او قوّت خاوند

شي، موسی علیه السلام یوه ورځ ولید چې دوو سړیو پخپلو منځو کې جنګ سره کوو، چې یو یې سبطي (اسرائیلي) او هغه بل یې قبطي وو، کله چې اسرائیلي موسی علیه السلام ولید؛ ورنارې یې کړې چې: «راشه د دغه قبطي له لاسه مې خلاص کړه»، موسی علیه السلام تش تهدید او ویرولو لپاره د یوه سوک ګزار پرې وکړ، څرنګه چې موسی علیه السلام ډېر یو قوي ځلمی وو؛ په هم هغه سوک سره یې دغه قبطي پر ځمکه ونښلوه، حال دا چې پخپله موسی ته دا نه وه معلومه چې ځما په یوه سوک به داسې یو قوي سړی یو په یو مري، نو ډېر زیات خفه شو، چې ولې بلا قصده وینه را په غاړه شوه.

له بل طرفه د دغه بلا اراده قتل په اثر دغه فکر او اند ښنه تولیده کېده، چې له ګوند (ډلې) او ګوند بازۍ (ډله بازۍ) اور یو ځلي بل او د نورو مصائبو او فتنو ابواب ونه پرانستل شي، نو ځکه موسی علیه السلام له خپل عمل څخه سخت نادم او متأثر شو، او داسې وپوهېد چې د ده په دغه عمل کې تر یوې درجې پورې د شیطان مداخله هم شته، د انبیاوو علیهم السلام ضمیر او فطرت داسې پاک او صاف او د هغوی استعداد دومره اعلی وي، چې پخوا د نبوّت له موندلو څخه دوی د خپلو اعمالو د یوې یوې ذرې محاسبه په ډېر تدقیق کوي، او په ډېر لږ ښوییدلو یا اجتهادي خطا د پاک الله له درباره په عجز او نیاز او ژړا معافي غواړي، او تر توبه کوي، لکه چې موسی علیه السلام هم د دغې خپلې خطا معافي وغوښته، او پر دغه خپل تقصیر یې اعتراف وکړ، چې د الله تعالی له طرفه وروښلی هم شو.

قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ فَلَنۡ أَكُونَ ظَهِيرٗا لِّلۡمُجۡرِمِينَ ١٧

وویل (موسی) ای ربه ځما ! په حق د انعام فضل ستا پر ما (وساته ما) پس چې له سره هیڅېرې نشم مددګار لپاره د ګناهګارانو.

تفسیر: یعنې کله چې تا ماته پخپل فضل او کرم د عفوې بشارت رامرحمت کړ، او عزّت، راحت، قدرت او قوت دې راعطا کړ، نو زه د دې د شکریې لامله به له سره د مجرمانو او ګناهګارانو حامي او مرستندوی نه کېږم، ممکن دي چې موسی علیه السلام ته د دغه مستغیث اسرائیلي څه تقصیر هم معلوم شوی وي، او همدغه ته به یې مجرم ویلی وي، یا به یې له مجرمانو څخه کفّار او ظالم خلق مراد وي، یعنې زه ستا دغه راکړې قوّتونه به وروسته له دې نه له سره د دغو خلقو په نصرت او حمایت کې نه لګوم، یا به له مجرمینو څخه شیاطین مراد وي، چې زه به هیڅکله د دوی د جمعیت حمایت نه کوم، څو هغوی ځما په زړه کې دغسې وسوسې واچوي، او دغسې کارونو ته مې ولمسوي، چې وروسته له هغه زه په ندامت او حسرت کې اخته شم، یا به یې هغه اسرائیلي ته د دې لامله مجرم ویلی وي چې هغه د دغه جرم د وقوع سبب ګرځېدلی وو، والله أعلم.

فَأَصۡبَحَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ خَآئِفٗا يَتَرَقَّبُ

بیا سبا پاڅېد (موسی) په دغه ښار کې په داسې حال کې چې ویرېدونکی وو (پر ځان خپل) چې انتظار به یې کوو (مدد د رب خپل ته، یا لاره یې کتله د نجات خپل).

تفسیر: یعنې موسی علیه السلام انتظار کوي، او لاړې ته ګوري چې د دغه مقتول وارثانو به خپله دعوی فرعون ته ورانده کړي وي، ولید شي چې پر چا دغه جرم اوړي؟ او له ما سره څه سلوک کوي؟.

فَإِذَا ٱلَّذِي ٱسۡتَنصَرَهُۥ بِٱلۡأَمۡسِ يَسۡتَصۡرِخُهُۥۖ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰٓ إِنَّكَ لَغَوِيّٞ مُّبِينٞ ١٨

پس ناڅاپه هغه (اسرائیلي) چې نصرت مدد یې غوښتی وو له دغه (موسی) څخه پرون، اوس بیا ناړې وهي دغه (موسی ته او مرسته ـ مدد ترې غواړي پر بل قبطي باندې)، پس وویل موسی هغه

(اسرائيلي) ته چې: بېشکه ته خامخا بې لارې يې ښکاره (چې پرون دې هغه قبطي راباندې مړ کړ، او اوس بيا راته نارې وهې).

تفسير: يعنې هم هغه اسرائيلي نن له بل کوم سړي سره جنګېده، او لاس يې پرې اچولی وو، نو موسی عليه السلام داسې ورته وويل چې: ته هره ورځ له ظالمانو سره نښلې، او غواړې چې ما هم له هغوی سره په جنګ واچوې، لنډه يې دا چې موسی عليه السلام ورته ورغی لپاره د امداد.

فَلَمَّآ اَنْ اَرَادَ اَنْ يَّبْطِشَ بِالَّذِيْ هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ۙ قَالَ يٰمُوْسٰٓى اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِيْ كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًۢا بِالْاَمْسِ ۚ اِنْ تُرِيْدُ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ جَبَّارًا فِي الْاَرْضِ وَمَا تُرِيْدُ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْمُصْلِحِيْنَ ۝١٩

پس کله چې اراده وکړه (موسی) چې ونيسي هغه (قبطي) چې وو دښمن د دغو دواړو (يعنې موسی او د دغه اسرائيلي حال دا چې موسی هغه اسرائيلي ته په قهر شوی هم وو، نو) ويې ويل: ای موسی ! آيا اراده لرې د دې چې ووژنې ته (نن) ما لکه چې وژلی دې وو يو نفس (د قبطي) پرون، اراده نه لرې ته (د هيڅ شي) مګر د دې چې شې (ای موسی) زورور په ځمکه (د مصر) کې او اراده نه لرې چې شې ته له اصلاح کوونکيو څخه.

تفسير: يعنې موسی عليه السلام غوښت چې پر هغه ظالم قبطي لاس واچوي، او دغه مظلوم سبطي (اسرائيلي) ترې خلاص کړي، خو سبطي په دې ګمان له موسی عليه السلام څخه وويرېد، کله چې ده راته «غويّ مبين» ويلي دي؛ نو نه چې اوس مې ووژني، ځکه چې دغه سبطي داسې وپوهېد؛ هم هغسې چې په خوله او خبرو سره ماته په غوسه او قهر دی، نو هرومرو لاس يې هم پر ما پورته کيږي، هغه پرونی وينه چې تر نن پورې پټه وه، او څوک پرې نه وو خبر چې د هغه قاتل څوک دی؟؛ سبطي ښکاره کړه، کله چې دغه قبطي د هغه سبطي دا خبرې واورېدې؛ نو پوه شو چې هغه قبطي هم دغه موسی وژلی دی، نو ورغی او فرعون يې خبر کړ، او فرعونيانو هم د موسی عليه السلام د وژلو اراده وکړه.

وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ يَسْعٰى ۙ قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنَّ الْمَلَاَ يَاْتَمِرُوْنَ بِكَ لِيَقْتُلُوْكَ فَاخْرُجْ اِنِّيْ لَكَ مِنَ النّٰصِحِيْنَ ۝٢٠

او راغی يو سړی له آخره د ښاره په دې حال چې رامنډې يې وهلې ويې ويل: ای موسی ! بېشکه چې مشران مشورې کوي په حق ستا کې لپاره د دې چې ووژني تا (په قصاص د هغه قبطي)، پس ووځه ته (له مصره) بېشکه زه يم تاته له نصيحت کوونکيو (خير غوښتونکيو) نه.

تفسير: يعنې د دغه قتل خبر فرعون ته رسېدلی دی، او هلته سره جرګې او مشورې کوي، چې د غير قوم د يوه ځلمي جرأت تر دغې اندازې پورې رسېدلی دی، چې د شاهي قوم او د سرکاري ملازمانو د يوه فرد قتل ته اقدام کوي، د حکومت ملازمان پر موسی عليه السلام پسې په سرعت وځغلول شول، چې ژر يې پيدا او بندي او په قتل يې ورسوي، له هغه مجمع څخه د يوه نېک سړي په زړه کې پاک الله دغه خبره واچوله څو هغه په تلوار او ديوې لنډې لارې څخه په ځغاسته موسی عليه السلام ته خپل ځان ورسوي، او دی له دغه ماجرا څخه باخبره او داسې يوه مشوره ورته ورکړي، چې ښايي ته همدا اوس له ښاره ووځې !.

فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ قَالَ رَبِّ نَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۱﴾ وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسٰى رَبِّيْٓ اَنْ يَّهْدِيَنِيْ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿۲۲﴾

پس ووت موسی له دغه مصر څخه په دې حال کې چې ویریدونکی وو، کتل به یې (هر طرف ته چې څوک راپسې رانشي)، وویل (موسی) ای ربه ځما ! نجات راکړه ته ماته له قومه ظالمانو (چې فرعون او تابعان یې دي). او کله چې متوجّه شو (موسی) په طرف د مدین؛ ویې ویل: امید دی له رب ځما څخه د دې چې وښیي ماته سمه لاره.

تفسیر: موسی علیه السلام له مصر څخه د هجرت په قصد لاړ شو، لیکن هیڅ یوه لاره او طرف ورته نه وو معلوم، نو له پاک الله څخه یې سوال وکړ چې: په سمه لاره مې برابر کړه !، نو ځکه دی د (مدین) په لویه لاره برابر شو، او په خیر او سلامتی سره یې هلته ورسوه، او په مدین کې یې داسې د امن او اطمینان ژوندون ور په برخه کړ، چې په کې ښه مأنوس او متأهل شو، یواځې هم دغومره نه بلکه تر ډېر لرې پورې یې نورې لار ښوونې هم ورته وکړې، او په سمه صافه لاره یې رهي (روان) کړ.

وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ اُمَّةً مِّنَ النَّاسِ يَسْقُوْنَ ۖ وَوَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمُ امْرَاَتَيْنِ تَذُوْدٰنِ ۚ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ۖ قَالَتَا لَا نَسْقِيْ حَتّٰى يُصْدِرَ الرِّعَآءُ ۖ وَاَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ ﴿۲۳﴾

او کله چې ورسېد (موسی) اوبو د مدین ته؛ نو ویې موندله پر هغه (کوهي) یوه ډله له خلقو چې اوبه یې ورکولی (مواشیو خپلو ته)، او ویې موندلې رابېرته له دوی څخه دوه ښځې چې رامنع کولې به یې ګډې خپلې (له اوبو نه)، نو وویل (موسی دغو ښځو ته) چې: څه دی حال ستاسې (چې منع کوئ له اوبو ګډې خپلې)؟ وویل هغو (دواړو) چې: اوبه نه ورکوو مونږ (ګډو خپلو ته) څو بېرته لاړ شي (دغه) شپانه، او پلار ځمونږ زوړ (د ډېرو کلونو سړی) دی (چې کار یې له لاسه نه کیږي).

تفسیر: مدین له مصر څخه د اتو یا لسو ورځو لرې مسافه کې پروت دی، کله چې دی هلته ورسېد؛ وږی تږی وو، ویې لیده چې خلق پر کوهي راټول دي، او خپل مواشي اوبه کوي، او دوه داسې ښځې یې هم هلته ولیدې چې دغو دواړو خپلې ګډې لرې ایساروي کړي دي، او په شرم او حیاء سره لرې ولاړې وې، په دوی کې دومره یو زور او قوّت نه وو، چې هغه مجمع له خپلې مخې څخه لرې کړي، یا بالذات هغه لویه درنه بوکه له اوبو څخه ډکه او له کوهي څخه یې راوکاږي، او ممکن وو چې دوی به خپلو ګډو ته داسې اوبه ورځښولې، چې له نورو څخه وروسته پاتې کېدې، نو موسی علیه السلام له دوی نه د انتظار علّت استفسار کړ، هغوی وویل چې: مونږ له ګردو څخه وروسته خپلو مواشیو ته اوبه ورکوو، ځکه که ځمونږ پلار ځلمی او قوي وی؛ نو مونږ به ولې راتلو، او هغه به پخپله راته، او له دغو خلقو سره به یې خپله معامله خلاصوله.

فَسَقٰى لَهُمَا ثُمَّ تَوَلّٰٓى اِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ اِنِّيْ لِمَآ اَنْزَلْتَ اِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ ﴿۲۴﴾

پس اوبه کړه (موسی رمه) د دغو دواړو بیا یې شا وګرځوله (ښځو ته او لاړ شو) سیوري ته، نو ویې ویل: ای ربه ځما ! بېشکه زه هر هغه څیز ته چې ولېږې ته ماته له خیره فقیر (محتاج) یم.

تفسیر: یعنې ای الله ! زه د خپل هیڅ عمل اجرت له مخلوقه نه غواړم، هو ! که ستا له طرفه کومه ښېګڼه (فائده) راورسیږي؛ زه هغې ته تل محتاج یم، (موضح القرآن) لیکي: «ښځو دی وپېژاند چې دغه سړی د لارې مسافر او

په سیورو کې کیناستونکی پردیسي دی، او له لرې څخه وړی تږی راغلی دی، لاړلې او خپل پلار ته یې دغه ګرد احوال بیان کړل».

فَجَآءَتْهُ إِحْدٰىهُمَا تَمْشِي عَلَى اسْتِحْيَآءٍ ۖ قَالَتْ إِنَّ أَبِي يَدْعُوكَ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا ۚ

پس راغله دغه (موسی) ته یوه له دواړو چې تګ یې کاوه په (طریقه د) حیاء سره، نو وویل (دې موسی ته) چې: بېشکه پلار ځما بولي تا لپاره د دې چې درکړي تاته اجر حق د اوبو کولو ستا (ګډو) ځمونږ ته.

تفسیر: دغه جینې داسې راتله لکه چې د شریفې او عفیفې او پاکې ښځې عادت او قاعده وي، وایي چې: دې له ډېره شرمه او حیاء خپل مخ په ټکري (څادر) بیخي پېچلی (نغاړلی) وو، او خبرې به یې کولې، موسی علیه السلام د الله تعالی څخه د خیر طالب وو، چې یې له خپله فضله په غیر متوقعه ډول سره ورولېږه، نو ولې به یې نه مانه، پاڅېد او له هغې ښځې سره د هغې د پلار په لوري روان شو، وایي چې د تللو په وخت کې یې دغې جینې ته وویل چې: «ته ځما په مخکې مه درومه ! او راپسې راځه، نه چې پر پردې ښځې عمدًا ځما نظر ولویږي»، لکه چې موسی علیه السلام د مخه شو، او هغه جینې ورپسې تله، او په خبرو سره یې ورته د لارې ښوونه کوله، تر څو یې خپل پلاره ته راوست.

فَلَمَّا جَآءَهُ وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ قَالَ لَا تَخَفْ ۖ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِينَ ﴿٢٥﴾

پس کله چې راغی (موسی) دغه (د جینکو پلار) ته، او بیان یې کړه پر دغه قصه خپله؛ وویل (د جینکو پلار موسی ته) مه ویرېږه ! نجات دې وموند له قومه ظالمانو (فرعونیانو) نه.

تفسیر: موسی علیه السلام خپله ټوله قصه د جینکو پلار ته واوروله، او هغه ده ته ډاډینه او تسلي ورکړه، او ویې فرمایل چې: ته اوس د ظالم قوم د منګولو څخه خلاص شوی، وروسته له دې نه دوی ان شاء الله تاته هیڅ ضرر نشي رسولی، ځکه چې مدین د فرعون د سلطنت له حدوده خارج وو.

قَالَتْ إِحْدٰىهُمَا يٰٓأَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ ۖ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ ﴿٢٦﴾

وویل یوې له دغو دواړو: ای پلاره ځما ! مزدور ونیسه دی (لپاره د مېږو ـ ګډو څرولو)، بېشکه چې غوره د هر هغه چا چې مزدور یې نیسې؛ هغه څوک دی چې قوتناک او امانتګر وي.

تفسیر: یعنې په موسی علیه السلام کې دواړه صفات موجود دي، زورور دی چې یواځې لویه تیږه (ګټه) یې د کوهي له سره لرې کړه، چې هغه به په څو تنو لرې کېده، په ډېر قوّت او مېړانه (بهادرۍ) سره یې اوبه وویستلې، اوځمونږ رمه یې په لږ وخت کې اوبه کړه، او ګرده د اوبو ویستونکي مجمع یې سره لرې کړه، او امانت دار دی، چې هیڅ طمع او توقّع نه لري، او ډېر عفیف او یو شریف ځلمی دی، تر دې چې په لاره کې هم له ما ځنې پر مخ ته، چې پر ما یې له سره نظر ونه لګېږي.

قَالَ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنْكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ عَلٰى أَنْ تَأْجُرَنِي ثَمٰنِيَ حِجَجٍ ۖ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ ۖ وَمَآ أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ ۚ سَتَجِدُنِيٓ إِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾

وویل (پلار د جینکو موسی ته) بېشکه زه اراده لرم د دې چې په نکاح درکړم تاته یوه له دغو لونو خپلو چې دا دي؛ په دې چې مزدوري وکړې ته ځما لپاره اته کاله، پس که پوره کړه تا لس

کاله؛ نو هغه به ستا له طرفه (له ما سره احسان) وي، او نه لرم زه اراده د دې چې مشقّت واچوم پر تا (په اشتراط د لسو کلونو)، ژر به ومومې ته ما که اراده وفرمايي الله له صالحانو نېکانو (وفا کوونکيو په وعده).

تفسير: ښايي همدغه خدمت د ده د جينې مهر وي.

﴿فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ﴾ - «پس که پوره کړه تا لس کاله؛ نو هغه به ستا له طرفه له ما سره احسان وي»، يعنې اقلاً اته کاله به ځما په خدماتو کې هرومرو مصروفيږي، که دوه کاله نور دې هم خدمت وکړ؛ نو هغه ستا تبرّع ده، او زه خو کوم سخت خدمت له تا ځخه نه اخلم، ته به له ما سره اوسېږې، ان شاء الله پخپله به په تجربه درځرګنده شي، چې زه بد طينته سړی نه يم، بلکه د الله تعالى په فضل او کرم سره د نېک بختانو ځخه يم، ته به ځما په صحبت کې نه خفه کېږې، بلکه د طبيعت د مناسبت لامله به مؤانست درحاصل شي.

قَالَ ذَٰلِكَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ ۖ أَيَّمَا الْأَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ ۖ وَاللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ﴿٢٨﴾

وويل (موسى پلار د جينکو ته) چې همدا (عهد مقرر شو) په منځ ځما او ستا کې، چې هره يوه له دې دواړو نېټو چې پوره کړه ما؛ پس نه به وي زيادت پر ما، او الله پر دغه چې وايو (يې مونږ يعنې زه او ته وکيل) ساتونکی شاهد دی.

تفسير: يعنې زه مختار او خپلواک يم، چې اته کاله درسره پاتې کېږم، که لس کاله، په هر حال دا معاهده چې اوس ترلې شوې ده؛ د الله په اعتماد ځما خوښه او منظوره ده، زه پاک الله پر دغه معاهده شاهدوم، او دغه معامله ختم کوم، په احاديثو کې راغلي دي چې موسى هم دغه اوږد مدّت (لس کاله) پوره کړ.

فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى الْأَجَلَ وَسَارَ بِأَهْلِهِ آنَسَ مِن جَانِبِ الطُّورِ نَارًا ۖ قَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّي آتِيكُم مِّنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴿٢٩﴾ فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ مِن شَاطِئِ الْوَادِ الْأَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ الْمُبَارَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ

پس کله چې پوره کړه موسى نېټه (خپله په اتو يا لسو کلونو)، او رهي (روان) شو سره له عيال خپل (مصر ته) ولید (موسى) له جانبه (د غره) د طور يو اور، ويې ويل عيال خپل ته چې: مدار وکړئ تاسې (په دې ځای کې)، بېشکه زه چې يم ومې ليد يو اور، ښايي ما لره چې راتله وکړم تاسې ته له دې (اور) ځخه په خبر (د لارې ورکې)، يا په بڅري (سکروټې يا شغلې) له هغه اوره لپاره د دې چې تاسې (پرې) تاوده شئ. پس کله چې راغی (موسى) دغه (اور) ته؛ نو غږ (ورته) وکړی شو له غاړې د هغې کندې چې په ښي طرف (د موسى) کې وه، (دغه غاړه وه) په هغه ټوټه مبارکه کړی شوې کې (له جهته د اوربدو د موسى کلام د الله لره په دې کې) له (هغې) ونې.

تفسير: چې ولاړه وه په غاړه د کندې کې، او د اور لمبې ترې ځرګندیږي.

أَن يَا مُوسَىٰ إِنِّي أَنَا اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٣٠﴾ وَأَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۚ فَلَمَّا رَآهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَانٌّ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ ۚ يَا مُوسَىٰ أَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ ۖ إِنَّكَ مِنَ الْآمِنِينَ ﴿٣١﴾ اسْلُكْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ ۖ

داسې چې ای موسی ! بېشکه زه همدا زه الله یم، رب د عالمیانو. او بل داسې (غږ پرې وشو چې) وغورځوه همسا خپله (پس ویې غورځوله)؛ نو کله چې ویې لیدله (موسی) دا (عصا) چې خوځېدله ګواکې دا (عصا) یو نری منګری مار ټوپ وهونکی دی؛ نو شا یې کړه، مخ یې واړاوه په دې حال کې چې تښتېدونکی وو (له ویرې)، او بېرته راونه ګرځېد، (بیا پرې غږ وشو د الله تعالی له جانبه داسې چې) ای موسی ! مخ راواړوه او بېرته راوګرځه ! اومه ویرېږه ! بېشکه ته چې یې له امان موندونکیو یې (له وېرې نه او بیخي مأمون یې). ننباسه (ښی) لاس خپل په ګرېوان (د کمیس خپل کې)، بیا یې خارج کړه، حال دا چې راوځي به تک سپین بې له کوم عیب (مرض ـ بدی).

تفسیر: د دغې رکوع له ابتداء څخه تر ﴿مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ﴾ پورې ګرد (ټول) مفصل واقعات د «طه» په سورت او نورو ځایونو کې تېر شوي دي، هلته دې ولوستل شي !.

وَٱضْمُمْ إِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ ٱلرَّهْبِ

او پیوست کړه (سینې) خپلې ته څانګ (یعنې لاس) دې له (جهته) د ویرې.

تفسیر: او رانژدې کړه ځان ته یعنې سینې خپلې ته څانګ دې، یعنې لاس دې له جهته د ویرې له مار یا له برص !، یعنې خپل مټ دې له خپلې سینې سره او تخرګ (ترخ) ته نژدې کړه، د مار او د برص او د نورو شیانو ویره به له تا څخه لرې کیږي، ښایي چې د راتلونکي لپاره یې هم د ویرې د ازالې په نسبت یې همدغه ترکیب ورښوولی وي.

فَذَٰنِكَ بُرْهَٰنَانِ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِۦٓ

نو دغه دواړه (عصا او ید بیضاء) دوه برهانه (او سندونه په رسالت د تا دي لیږلي شوي) له (طرفه د) رب ستا طرف د فرعون ته او قوم د ده ته.

تفسیر: یعنې د «عصا» او «ید بیضاء» معجزې د نبوّت د برهان او سند په ډول درعطاء کړی شوي دي، څو پر دغه وسیله پر فرعون او نورو سبطیانو د حجّت اتمام وکړی شي.

إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّى قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴿٣٣﴾

بېشکه چې دوی دي قوم فاسقان (وتلي له فرمان د الله). وویل (موسی) ای ربه ځما ! بېشکه زه چې یم وژلی مې دی له دغو (قبطیانو) څنې یو نفس (سړی)، پس ویرېږم چې وبه مې وژني دوی(په قصاص د هغه سره).

تفسیر: یعنې که په مجرد د رسېدلو مې ووژني؛ نو ستا دغه دعوت به څرنګه ورسولی شم؟.

وَأَخِى هَٰرُونُ هُوَ أَفْصَحُ مِنِّى لِسَانًا فَأَرْسِلْهُ مَعِىَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِىٓ إِنِّىٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴿٣٤﴾

او ورور ځما هارون هغه ډېر فصیح دی له ما له جهته د ژبې، پس ولېږه هغه هم له ما سره یار مددګار چې تصدیق کوي ځما، بېشکه ویرېږم له دې چې دروغجن به وګڼي دوی ما.

تفسیر: یعنې که کوم یو بل تصدیق او تایید کوونکی سړی هم راسره وي؛ نو طبعًا به ځمونږ زړونه مضبوط او قوي کیږي، نو د ده د دروغجن شمېرلو په موقع کې کله چې د بحث او مناظرې وار ورسیږي؛ امکان لري چې ځما د ژبې

د لکنت او بندبدلو لامله په خبرو او اترو کې څه موانع او عوائق واقع شي، نو په دغه وخت کې به د هارون رفاقت ماته ډېر نافع او مفید واقع شي، ځکه چې د ده ژبه له ما څخه ډېره ښه چلیږي، او ښه فصیح او بلیغ دی.

قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَانًا فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا ۚ بِآيَاتِنَا ۚ أَنْتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغَالِبُونَ ﴿٣٥﴾

وفرمایل (الله) ژر به قوي کړو مونږ مټ ستا په ورور ستا، او وبه ګرځوو مونږ تاسې ته غلبه (او تسلّط پر دښمنانو د تاسې)، پس وبه نه رسیږي دوی تاسې دواړو ته (په ضرر سره) په سبب د معجزو ځمونږ سره، تاسې دواړه او هر هغه څوک چې متابعت وکړي ستاسې غالبان به اوسئ (پر دوی باندې).

تفسیر: یعنې ما ستا دغه دواړه غوښتنې منظورې کړې، هارون به ستا بازو او مټ وي، او د یوه وزیر په شان به ستا سره ملګرتوب کوي، او د فرعون لاس به له سره په تاسې نه رسیږي، او ځمونږ د دغو دلائلو او نښو په برکت تاسې او ستاسې ملګري تل غالب او بریالي (کامیاب) او دوی سره له خپلو ملګرو تل مغلوب او پرې دي.

فَلَمَّا جَاءَهُمْ مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا بَيِّنَاتٍ قَالُوا مَا هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُفْتَرًى وَمَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي آبَائِنَا الْأَوَّلِينَ ﴿٣٦﴾

پس کله چې راغی دوی ته موسی سره له معجزو ځمونږ چې ښکاره وې وویل (فرعونیانو): چې نه دی دا مګر خو سحر (کوډې) دي په دروغو سره ترلې شوې، او نه دی اوربدلی مونږ دا (سحر یا دعوی د نبوّت) په (زمانو د) پلرونو ځمونږ کې چې پخوا تېر دي.

تفسیر: یعنې د دغو معجزاتو د لیدلو په اثر یې وویل چې: دغه ګردې کوډې او سحر دی، او د هغو خبرو نسبت چې دوی الله ته کوي؛ هغه هم د کوډو خبرې دي، چې دوی له خپله ځانه جوړې کړي دي، او داسې دعوی کوي چې دغه پر ما باندې الله تعالی د وحی په صورت نازلې کړي دي، په واقع کې دغه وحي او الهام هیڅ شی نه دی، او یوائې د سحر او د کوډو اعمال او د سحر تخیّل او افتراء ده، دغه خبرې چې موسی کوي: مثلاً یوه الله تعالی دغه ګرده دنیا پیدا کړې ده، او هم هغه یو الله جل جلاله همدغه دنیا فناء کوي، او بیا یې له سره ژوندی کوي، بیا به حساب او کتاب اخلي، او زه یې رسول ګرځولی او درلېږلی یم او داسی نور، مونږ له خپلو پخوانیو مشرانو او نورو څخه نه دي اوریدلي، او داسې څیز مو له سره غوږو ته نه دی رسېدلی.

وَقَالَ مُوسَىٰ رَبِّي أَعْلَمُ بِمَنْ جَاءَ بِالْهُدَىٰ مِنْ عِنْدِهِ وَمَنْ تَكُونُ لَهُ عَاقِبَةُ الدَّارِ ۖ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ﴿٣٧﴾

او وویل موسی چې رب ځما ښه عالم دانا دی په هغه چا چې راغلی دی په هدایت (راوړی یې دی) له طرفه د هغه (رب)، او په هغه چا باندې چې شته هغه ته ښه خاتمه په دې دنیا کې، بېشکه شان دا دی چې نه مومي بری ظالمان (چې هدایت ومومي په دنیا او راحت په عقبی کې).

تفسیر: یعنې الله تعالی په دې باندې ښه عالم دی، چې زه پخپله په د غې دعوی کې رښتین یم، او د هغه له نزده مې هدایت راوړی دی، نو ځکه آخره خاتمه او انجام به مې ښه وي، هغه خلق چې د الله تعالی دغه ښکاره د قدرت نښې

ويني، او د صداقت دلائل اوري، او د بې انصافۍ له مخې يې تکذيب کوي، دوی له سره بری نه مومي، او د کاميابۍ مخ نه وينې، او په آخره خاتمه کې دوی له ذلّت او ناکامۍ سره مخامخ کېدونکي دي.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرِي ۖ فَأَوْقِدْ لِي يَا هَامَانُ عَلَى الطِّينِ فَاجْعَل لِّي صَرْحًا لَّعَلِّي أَطَّلِعُ إِلَىٰ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿٣٨﴾

او وويل فرعون: ای ټولیه د مشرانو (د اهل د مصر !) نه پېژنم زه تاسې ته کوم معبود (چې عبادت ورته کوئ) بې له ما څخه، پس بل کړه اور ځما لپاره ای هامانه پر خټې باندې (خښتې راته پخې کړه) پس وګرځوه جوړه کړه ځما لپاره مانۍ لوړه (اوچته) ښايي ماته چې وخېژم الله د موسی ته (وئ ګورم چې شته؟ که نشته؟)، او بېشکه خامخا زه ګمان کوم پر موسی له دروغجنانو (په دعوی د بل معبود کې بې له مانه).

تفسير: يعنې خپل وزير هامان ته يې وويل چې د ډيرو کلکو او ښو خښتو څخه يوه پخه او هسکه مانۍ را جوړه کړه چې اسمان ته نژدې شي څو زه پر هغه پاس وخيژم او د موسی رب وګورم چې چيرته دی، دايې دروغ وګڼله چې الله تعالی بره دی، نو ځکه يې د تمسخر په ډول دا خبره وکړه.

وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ إِلَيْنَا لَا يُرْجَعُونَ ﴿٣٩﴾ فَأَخَذْنَاهُ وَجُنُودَهُ فَنَبَذْنَاهُمْ فِي الْيَمِّ ۖ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ ﴿٤٠﴾

او کبر وکړ دغه (فرعون) او لښکرو د دغه (فرعون) په ځمکه (د مصر) کې په ناحقه سره (بې له استحقاقه)، او ګمان وکړ دوی د دې چې بېشکه دوی به مونږ ته نه راګرځول کيږي (په قيامت کې). پس راونيوه مونږ هم دغه (فرعون) او (هم) لښکرې د دغه (فرعون)، پس وغورځول مونږ دوی (ټول) په سيند کې (پس غرق شول)، نو وګوره (ته ای محمده !) چې څرنګه وو عاقبت (آخره خاتمه) د ظالمانو.

تفسير: يعنې له خپلې خاتمې او انجامه بالکل غافل شو، او په خپل مملکت کې يې په تکبّر او غرور لاس پورې کړ، او په دې ونه پوهېد چې بل د ده سر ماتوونکی او غاړه ځپښونکی هم موجود دی، بالآخر قهّار الله دی سره د ده د لاوو لښکر د قُلزم په بحيره کې غرق کړ، څو دغه لويه واقعه د يادګار په شان نورو هغو بدبختو ظالمانو ته پاتې شي، چې له انجامه بې خبره او غافل دي، او ښه وپوهيږي چې د دوی خاتمه به همداسې کيږي، د دغه غرق او نورو ورپورې تړلې خبرو تفصيلات پخوا له دې نه هم تېر شوی دی.

وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾

او ګرځولي وو مونږ دوی پېشوايان (د ګمراهۍ په دنيا کې) چې بولي دوی (تابعان خپل په بدو عقيدو او عملونو سره) د اور طرف ته، او په ورځې د قيامت کې وبه نه کړی شي مدد (له دوی سره په دفع د عذاب کې له دوی نه).

تفسير: يعنې دلته په ضلالت او طغيان کې له ګردو څخه وړاندې او مقدم وو، او خلقو ته به يې د دوزخ په لوري بلنه کوله، هلته به هم دی د نورو دوزخيانو امام او مشر وي، لکه چې (د ۱۱ جزء د هود سورت په (۹) رکوع (۹۸) آيت کې) مسطور دي: ﴿يَقْدُمُ قَوْمَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَوْرَدَهُمُ النَّارَ ۖ وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُودُ﴾ يعنې د دې ځای لښکر به يې هلته هيڅ په کار نه

ورځي، نه به د چا له لوري کوم امداد او معاونت وررسيږي، دی به سره له خپل لاوو لښکر ځکړ په دوزخ کې غورځول کيږي، هيڅوک به د دوی خلاصوونکي نه وي.

وَاَتْبَعْنٰهُمْ فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ هُمْ مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ ﴿۴۲﴾

او تابع (لازم) کړ مونږ له دوی سره په دغه (لږ خسيس ژوندون د) دنيا کې لعنت لرهوالی (له رحمته)، او په ورځ د قيامت کې به وي دوی له قبيح (لرې له رحمت ـ او بد څېرو کړی شويو څخه).

تفسير: يعنې د عُقبا بدي او بد انجام خو ښه دی، په همدغه دنيا کې تر هغه پورې چې خلق اوسيږي، پر داسې کسانو لعنت وايي.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰى

او خامخا په تحقيق ورکړی وو مونږ موسی ته کتاب (تورات) وروسته د هغه چې هلاک کړي وو مونږ (اهل د) زمانو ړومبنيو (لکه قوم د نوح، لوط او نور).

تفسير: د تورات له نزوله وروسته پر دنيا داسې د اهلاک او د افناء عذاب ډېر لږ راغلی دی ځکه چې د سماوي اهلاک په ځای د جهاد طريقه مشروع کړی شوې ده، ځکه چې څه نه څه خلق هرومرو پر شرعي احکامو قائم اوسيږي.

بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۳﴾

حال دا چې سبب د انوارو وو لپاره د خلقو، او سمه لار ښوونکی او رحمت وو لپاره د هغو (کسانو چې ايمان يې پرې راوړی دی) ښايي چې دوی پند واخلي پرې.

تفسير: يعنې (تورات) چې موسی عليه السلام ته ورکړی شوی دی؛ لوی فهم او بصيرت عطاء کوونکی او خلقو ته د هدايت پر سمه صافه لاره بيوونکی او د رحمت مستحق ځکړځوونکی يو کتاب وو، څو خلق هغه ولولي، او د الله تعالی په يادو اوسيږي، او د الله تعالی احکام ياد کړي، پند او نصيحت ترې حاصل کړي، رښتيا خو دا ده چې وروسته له عظيم الشأن قرآن څخه په هدايت کې د (تورات) شريف درجه ده، او نن ورځ چې هغه د خپلو تابعانو له لاسه ضايع شوی دی، همدغه پاک قرآن د (تورات) د ضروري علومو او هدايت حفاظت کوي.

وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ اِذْ قَضَيْنَآ اِلٰى مُوْسَى الْاَمْرَ وَمَا كُنْتَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۴۴﴾

او نه وې ته (حاضر ای محمده ! له موسی سره) په جانب (د هغه غره چې) غربي (وو له موسی څخه په وخت د مناجات کې) هغه وخت چې ولېږه مونږ طرف د موسی ته امر (حکم د رسالت)، او نه وې ته له حاضرينو (عند الوحي چې دغه قصه دې له خپلو ليدلو بيان کړي وی).

تفسير: يعنې د طور د غره له غربي جانبه چېرې چې موسی ته نبوّت او (تورات) ورعطاء شوی دی.

وَلٰكِنَّآ اَنْشَاْنَا قُرُوْنًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ۚ

وليکن مونږ پيدا مو کړل اهل د زمانو (ډېر وروسته له موسی) پس اوږده شول پر دوی عمرونه.

تفسير: يعنې ته د هغه وخت واقعات په داسې صحت او صفايې ـ بسط او تفصيل سره بيانوې، لکه چې هم هغلته له «طور» سره ولاړ وې، او دغه ګرد واقعات دې پخپلو سترګو سره ليدلي وي، حال دا چې ستاسې عدم الوجود په هغې موقع کې يوه ښکاره او ظاهره خبره ده، او برسېره پر دې هم ټول عالم خبر دی، چې تاسې امّي يئ، د کوم عالم په صحبت کې هم نه يئ اوسېدلي، او نه د صحيحو او ثقه وو واقعاتو کوم ښه جيد عالم په مکې معظمې کې موجود د وو، نو سره له دې دغه خبره د غور او دقّت لايقه او وړ (لايقه) ده، چې دغه علوم او حقايق له کوم ځای تاسې ته راغلل، حقيقت دا دی چې د دنيا پر اقوامو ډېر مدّتونه او قرنونه تېر شوي دي، چې د زمانو په تيريدو مروره هغه علوم بيخي منحرف او مندرس او هغه حقائق محو او اضاعه او له ياده ووتل، نو ځکه د هغه عليم او خبير اراده په دی باندې مقتضی شوه چې د يو امي له ژبی څخه هغه هېر شوی سبق بيا د خلقو په ياد ورکړ شي، او د هغو عبرتناکو او موعظت ورکوونکيو واقعاتو داسې يوه صحيحه نقشه د دنيا خلقو ته ور وړاندې کړی شي، چې د هغې له ليدلو څخه د دغې خبرې منل او تسليم ته غاړه کيږدي؛ چې دغه د هم هغه واحد احد الله کلام دی.

وَمَا كُنْتَ ثَاوِيًا فِي أَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِنَا وَلَٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ﴿٤٥﴾

او نه وې ته (ای محمده !) اوسېدونکی په اهل د مدين کې چې لوستل به دې پر دوی باندې آيتونه ځمونږ، وليکن مونږ چې يو ـ يو مونږ ليږونکي (تا لره لپاره د دغې قصې په وحي سره).

تفسير: يعنې موسی عليه السلام ته هغه واقعات چې وروسته د «مدين» له هجرت څخه ورپېش شوي دي؛ ته د هغو واقعاتو بيان په داسې ښه ډول او صحت سره کوې چې له هغه څخه داسې څرګندېږي چې ګواکې تاسې په هغه وخت کې سره د نبوّت له شانه هلته مسکون وئ.

وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّورِ إِذْ نَادَيْنَا وَلَٰكِنْ رَحْمَةً مِنْ رَبِّكَ

او نه وې ته (ای محمده !) په جانب د طور کله چې غږ وکړ مونږ (موسی ته)، وليکن (لېږلی يې مونږ ته ای محمده !) رحمت له طرفه د رب ستا.

تفسير: کله چې پر موسی عليه السلام داسې غږ وشو چې: ﴿إِنِّي أَنَا اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ﴾ ته خو هلته ولاړ نه وې؟ او دغه غږ خو دې نه دی اورېدلی؟ دغه د الله تعالی انعام او اکرام دی چې ته يې پر دغو واقعاتو او حقائقو مطلع کړې، او ستا سره يې هم همداسې يو وضعيت او رعايت وفرمايه، لکه چې له موسی سره شوی وو، ګواکې په «جبل النّور» کې چېرې چې د «حراء» غار دی، او په مکه معظّمه او مدينه منوره کې د «جبل الطور» او د «مدين» واقعات بيا له سره اعاده او تکرار شول.

لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَا أَتَاهُمْ مِنْ نَذِيرٍ مِنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٦﴾

(لپاره) د دې چې وويروې ته هغه قوم چې نه دی راغلی دوی ته هيڅ ويروونکی (له عذابه) پخوا له تا (ای محمده !) لپاره د دې چې دوی پند واخلي پرې.

تفسير: يعنې د عربو خلقو ته دغه شيان وروښيه ! او دوی له دغو خطرناکو عواقبو څخه خبردار کړه !، ممکن دي چې دوی دغه خبرې واوري، او په ياد يې ولري، او پند او نصيحت ترې واخلي.

تنبيه: ﴿مَّا أَنذَرَ آبَاؤُهُمْ﴾ څخه به «آباؤهم الأقربون» مراد وي، والله أعلم.

وَلَوْلَآ اَنْ تُصِيْبَهُمْ مُّصِيْبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ فَيَقُوْلُوْا رَبَّنَا لَوْلَآ اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٧﴾

او که چېرې نه وی دا چې وبه رسېږي دوی ته مصیبت (غم عذاب) په سبب د هغو (ګناهونو) چې پخوا لېږلي دي لاسونو د دوی، پس وبه وایي (دغه کفّار): ای ربه ځمونږ ! ولې دې نه رالېږه تا مونږ ته کوم رسول (چې ستا احکام یې مونږ ته راوړي وی)، پس متابعت به کړی وو مونږ د آیتونو ستا او شوي به وو مونږ له مؤمنانو (په تا او په هغه رسول ستا باندې). (که دا خبره نه وی؛ نو نه به مو وی لېږلی ته دوی ته لیکن لېږلی مو یې چې عذر یې پاتې نشي).

تفسیر: یعنې د رسول الله صلی اله علیه وسلم بعثت په دوی کې د دوی خوش قسمتي ده، که بې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لېږلو څخه مو دوی ته پر دغو ظاهرو او باهرو طغیانونو او بې عقلیو او بې ایمانیو سزا ورکولی؛ خو دغه هم عین الانصاف او عدل وو، لیکن الله تعالی پر دوی احسان وفرمایه، او د هیڅ قسم معقول عذر او پلمو (تدبیرونو) وړاندې کولو لپاره یې موقع ورپرې نه ښوده، ځکه امکان یې درلود (لرلو) چې د سزا ورکولو په وخت کې به یې ویل چې: «الهه ! مونږ ته خو دې کوم رسول نه دی رالېږلی تر څو یې مونږ پر خپلو اغلاطو پوهولي وی، او اقلاً سمه لاره یې راښوولی او څه تنبیه یې راکولی، او دغه دی چې مونږ دې بې خبره په دوزخ کې وغورځولو، هو ! که کوم نبي دې راغلی وی؛ نو عالم به لیده چې مونږ په څه اخلاص او عقیدت سره له پخوا ایماندارانو څخه ثابت کیدو».

فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْا لَوْلَآ اُوْتِيَ مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى ؕ

پس کله چې راغی دغو (کفّارو) ته حق قرآن له جانبه ځمونږ؛ نو ویې ویل (دغو کفارو): ولې نه دي ورکړی شوي (محمد ته معجزې) په شان د هغو (معجزو) چې ورکړی شوې وې موسی ته (لکه عصا او ید بیضاء).

تفسیر: یعنې که مو رسول نه لېږه؛ نو داسې به یې ویل چې: ولې دې رسول راته ونه لېږه؟ اوس چې داسې رسول ورمبعوث شوی دی، چې له ګردو انبیاوو څخه په شان او رُتبه کې لوی دی، نو وایي صاحبه ! مونږ دې هله منو، کله چې وګورو چې د موسی علیه السلام په شان له تا څخه د «عصا او ید بیضاء» او نور معجزات راښکاره شي، حال دا چې هغه ته (تورات) هم یو ځلي د یوه کتاب په شکل ورنازل شوی وو، او ته دې خپل کتاب د دوو دوو څلورو څلورو آیتونو په شکل راوړاندې کوې.

اَوَلَمْ يَكْفُرُوْا بِمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى مِنْ قَبْلُ ۚ

آیا نه وو کافران شوي (جنس د کفّارو) په هغو (معجزو) چې ورکړی شوې وې موسی ته پخوا (له نزوله د دغه قرآن).

تفسیر: یعنې د موسی علیه السلام کتاب او معجزات مو چېرې ټول سره منلي وو، د هغه په نسبت مو هم شبهات ایستل، او ورته مو «سحر مفتری» ویل، لکه چې اوس په یوه دوه رکوع مخکې تېر شو، هو ! هر څوک چې غواړي د پاک الله احکام ونه منې؛ نو په هره یوه خبره یو نه یو شی وایي، او راز راز احتمالات د هغه په نسبت پیدا کوي.

قَالُوْا سِحْرٰنِ تَظٰهَرَا ۫ وَقَالُوْٓا اِنَّا بِكُلٍّ كٰفِرُوْنَ ﴿٤٨﴾

وويل (منكرانو په حق د موسى او محمد کې چې خاوندان د) سحر دي، مدد کوي يو د بله، او ويې ويل چې: بېشکه مونږ په هر يوه (د دې دواړو انبياوو) کافران يو.

تفسير: کله چې موسى عليه السلام د معجزو ذکر ورته وشو نو دا يې ويل چې دى دواړو انبياؤ سحر راوړى دي او مونږ يې نه منو.

قُلْ فَأْتُوا بِكِتَابٍ مِّنْ عِندِ اللَّهِ هُوَ أَهْدَىٰ مِنْهُمَا أَتَّبِعْهُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٤٩﴾

ووايه (اى محمده دوى ته) پس راوړئ تاسې يو داسې کتاب له جانبه د الله، چې هغه ښه لاره ښوونکى وي له دغو دواړو کتابونو چې متابعت وکړم زه د هغه (کتاب) که چېرې يئ تاسې صادقان رښتينې، په دغه دعوى ستاسى کې.

تفسير: يعنې په اسماني کتابونو کې له ګردو ځنې لوى او مشهور کتابونه هم دغه دوه کتابونه دي، چې له هغوى سره سيالي او برابري بل هيڅ يو کتاب نشي کولى، که دغو دواړو ته جادو وايئ؛ نو تاسې بل کوم د الله تعالى کتاب راوړاندې کړئ چې له دغو څخه ښه او ډېر هدايت لرونکى وي، په فرض محال کې تاسې داسې کوم کتاب راوړئ؛ نو زه به د هغه متابعت وکړم، ليکن تاسې داسې کتاب تر قيامته پورې نشئ راوړئ، له دې نه به زياته بدبختي څه وي، چې تاسې پخپله له ربّاني هدايته قطعًا بې برخې يئ !، او دغه مقدّس کتاب ته چې سره له هدايت درغلى دى؛ کوډې وايئ !، او نه يې منئ، کله چې دغه کتاب د يوه انسان جوړ کړى جادو دى؛ نو تاسې د ګرد جهان جادوګران راټول کړئ، او له هغوى څخه له دغه ځنې لوى جادو جوړ کړئ، ځکه چې جادو خو داسې يو شى نه دى، چې د هغه مقابله به امکان نه لري.

فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكَ فَاعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَاءَهُمْ ۚ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوَاهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿٥٠﴾

پس که چېرې ونه منله دوى خبره ستا؛ پس پوه شه چې بېشکه همدا خبره ده چې متابعت کوي دوى د خواهشونو خپلو (بې دليله)، او څوک دى ډېر ګمراه له هغه چا چې متابعت کوي د خواهش خپل بې هدايته له ښوولو د لارې له (طرفه د) الله، بېشکه چې الله نه ښيي سمه لاره قوم ظالمانو ته (چې تابع وي د نفسونو او هواوو خپلو بې دليله).

تفسير: يعنې کله چې دغه خلق نه هدايت قبلوي، او نه د هغه په مقابل کې بل کوم شى وړاندې کولى شي؛ نو همدغه وضعيت د دغې خبرې دليل دى، چې دوى داسې مقصود نه لري، چې د هدايت په لاره لاړ شي، محض پر خپلو نفساني خواهشاتو تګ کوي، او هر شى يې چې زړه غواړي؛ هغه مني، او هر هغه شى چې د خپلې مرضى او غوښتنې څخه مخالف او چپ ومومي؛ هغه نه مني، او ترديدوي يې، نو دلته دغه راوښوول کيږي چې داسې هوا پرستانو ظالمانو ته څرنګه هدايت ورکاوه کيږي؟ د الله تعالى عادت د هغه قوم پر هدايت جاري دى، چې د هدايت موندلو اراده ولري، او محض هوا او هوس د حق او حقانيت معيار ونه ګڼي.

وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥١﴾

او خامخا په تحقيق پرله پسې لېږلې ده مونږ دوى ته خبره (د پند چې قرآن دى) لپاره د دې چې دوى پند واخلي.

تفسير: يعنې ځمونږ د وحيې سلسله لا له پخوا څخه جاري ده، د يوې وحي په تصديق او تاييد مو بله وحي ورپسې لېږلې ده، او قرآن مو هم په تدريج سره نازل کړی، او په يوه آيت پسې بل آيت تل راځي، مقصد دا دی چې د کافي غور کولو او د پوهېدلو موقع په لاس درشي، او د هغه په يادولو کې درته آساني او سهولت وي.

اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَاِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖٓ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّنَآ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِيْنَ ﴿۵۳﴾

هغه کسان چې ورکړی دی مونږ دوی ته کتاب پخوا له دغه (قرآنه) دوی په دغه (قرآن) ايمان راوړي. او کله چې ولوست شي (دا قرآن) پر دوی باندې؛ نو وايي دوی چې: ايمان راوړی دی مونږ په دغه (قرآن چې) حق دی (راغلی دی) له (طرفه د) رب ځمونږ، بېشکه مونږ چې وو پخوا له نزوله د دغه (قرآن) مسلمانان (په دغه قرآن باندې).

تفسير: يعنې د دغو جاهلانو مشرکانو حال داسې دی چې نه پخواني کتابونه مني، او نه د وروستنو کتابونو منونکي دي، د دوی په مقابل کې هغو حق پسندو او انصاف خوښوونکو کتابيانو ته وګورئ چې دوی هغه دواړه مني، پخوا له دې نه يې په تورات او انجيل يقين لرلو، کله چې پاک قرآن نازل شو؛ نو ژر يې تصديق وکړو، چې بلا شبهه دغه هم حقّاني اسماني کتاب دی، چې ځمونږ د الله له جانبه نازل شوی دی، مونږ په ده باندې هم د خپل يقين او اعتماد اعلان کوو، مونږ خو پخوا له دې نه هم د الله تعالى خبرې منلي دي، او اوس يې هم منو، في الحقيقت مونږ له نن ورځې څخه نه يو مسلمانان ـ بلکه لا له پخوا مسلمانان وو، ځکه چې مونږ په خپلو پخوانو کتابونو هم ايمان لرلو، چې په هغو کې د مخه د دغه آخر الزمان نبي او د دغه عظيم الشان فرقان په متعلق صاف صاف بشارات موجود وو، لهذا په هغو وړاندوينو مونږ پخوا له دې نه بالاجمال مؤمنان وو، اوس چې دغه تفصيل مو په خپلو سترګو وليدو؛ لا پرې مسلمانان شو.

اُولٰٓئِكَ يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوْا

دغه (يهودان او نصرانيان چې ايمان يې راوړی دی په قرآن)؛ ور به کړ شي دوی ته اجر د دوی دوه کرته، په سبب د دې چې صبر کړی وو دوی (او پر خپل ايمان قائم وو په دې دواړو کتابونو).

تفسير: يعنې په غُرور او استغناء يې د حق له قبوله مخ نه دی اړولی، بلکه هر کله چې حق او صداقت ورسېږي؛ بې تکلّفه د تسليم او اطاعت غاړه ورته ږدي.

وَيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ

او دفع کوي دوی په حسنه نېکۍ سره سيئه بدي.

تفسير: يعنې که بل څوک له ده سره بدي کوي؛ دی له هغه سره نيکي او احسان، مروت او شرافت کوي، يا يې دا مطلب که چېرې له دوی نه کوم بد کار صادرېږي؛ نو د هغه تدارک په نېکۍ سره کوي، څو د حسناتو پله پر سيئاتو درنه شي.

وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۵۴﴾

او له ځينو د هغو مالونو چې ورکړي دي مونږ دوی ته صرفوي يې (په لاره د الله کې).

تفسير: او له هغه حلال مال چې پاک الله ورته عطاء کړي دي؛ زکات ورکوي، صدقات او خيرات اداء کوي، له أقاربو او خپلوانو سره مرسته او امداد کوي، لنډه دا چې په حقوق العباد کې هم له سره قصور او لنډون نه کوي.

وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ وَقَالُوا لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِي الْجَاهِلِينَ ﴿۵۵﴾

او کله چې واوري دوی کومه چټې (بېکاره) خبره؛ نو څنګ کوي دوی له هغې نه، او وايي (هغو چټې - بېکاره ویونکیو ته): دي مونږ ته عملونه ځمونږ (له حلمه او صبره)، او دي تاسې ته عملونه ستاسې (له حماقته او بد ویلو)، سلام دی پر تاسې (له طرفه ځمونږ له کنځلو او طعنو) نه غواړو مونږ (مجلس او طریقه) د جاهلانو.

تفسیر: یعنې که کوم جاهل لغو خبرې کوي؛ نو دی له هغه سره نه لګیږي، او ورته وايي چې: بس دی خانه ! ستا د دغې خبرې جواب مونږ له لرې څخه په سلام اچولو سره درکوو، دغه د جهالت او ناپوهۍ وضعیت مونږ تاسې ته در پرېږدو، مونږ پرېږده چې پخپلو کارونو کې مشغول اوسو، ستاسې اعمال به ستاسې په مخ کې او ځمونږ اعمال به ځمونږ په مخ کې راځي، مونږ ته د دې خبرې هیڅ ضرورت نه دی پاتې چې خامخا به ستاسې غوندې له ناپوه خلقو سره لګیږو.

إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ ۚ

بېشکه ته (ای محمده !) نشې ښوولی (لاره حقه) هغه چاته چې خوښ وي ستا، ولیکن الله سمه صافه لاره ښیي هغه چاته چې اراده وفرمایي (د سمې لارې ښوولو يې).

تفسیر: شاه صاحب لیکي چې: «محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل تره ابو طالب لپاره ډېر کوښښ وکړو، چې د مرګ په وخت کې د اسلام کلمه ولولي، مګر هغه دغه خبره ونه منله، نو د هغه په نسبت دغه آیت نازل شو» (موضح) یعنې له هغه چا سره چې ته طبیعي محبّت لرې، یا ستا زړه غواړي چې هغه هدایت وموميږ؛ نو دغه خبره ضروري نه ده چې هم هغسې واقع شي، ستا کار یوائې لارښوونه ده، پاتې شو دغه کار چې کوم یو سړی پر هغه لاره درومي او د مقصود تر منزل پورې رسیږي؟ او کوم یو نه رسیږي؟ دغه ستا د اختیار او له قبضې څخه خارج دی، الله تعالی اختیار لري چې د هر چا په نسبت اراده وفرمایي؛ هغه ته د قبول الحق او وصول الی المطلوب توفیق ورکړي.

وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿۵۶﴾

او همدغه (الله) ښه عالم دی په سمه صافه لاره موندونکیو باندې.

تفسیر: هیڅ یو سړی د دغې خبرې واک او صلاحیت نه لري، چې بل څوک پر سمه صافه لاره روان کړي، بلکه څوک پر دغه خبره علم هم نه لري، چې کوم یو پر سمه لاره راتلونکی دی؟ یا د راتللو استعداد او لیاقت لري؟، په هر حال په دغه آیت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تسلي ورکړی شوې ده، چې تاسې د جاهلانو په دغو چټې (بېکاره) ویناوو او د ضد او عناد پر شورماشور یا د خپل خاص اعزه او اقارب پر نه مسلمانېدو مه متأثر او مه غمجن کېږئ !، هومره چې ستاسې پر ذمه فرض دی؛ هغه اداء کړئ !، د خلقو استعدادات مختلف دي، او دغه خبره د الله تعالی په اختیار او علم کې ده، چې د هغوی څنې کوم یو پر سمه لاره راوستل کیږی.

وَقَالُوا إِنْ نَتَّبِعِ الْهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ أَرْضِنَا ۚ

او وایي (کفّارد مکې): که چېرې متابعت وکړو مونږ د هدایت له تا سره (او ایمان په تا راوړو)؛ نو وبه تښتول شو (او ژر به وشړل شو) له ځمکې خپلې نه.

تفسير: له هدايت ځنې د انسان منع کوونکي څو شيان دي، مثلاً د ځان نقصان، د مال خوف، لکه چې د مکې معظمې مشرکانو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ويلي وو: بېشکه چې مونږ په دې باندې ښه پوهيږو، چې تاسې پر حقاني دين يئ، ليکن که مونږ د اسلام دين قبول کړو، او له تاسې سره يو ځای شو؛ نو ګرد عرب به ځمونږ دښمنان شي، او د چارچاپېر ګرد اعراب به پر مونږ هجوم او يرغل راوړي، او ټول به سره يو ځای کيږي، او مونږ به خپله يوه نمړۍ کړي، نه به مو ځان سلامت پاتې شي، او نه به مو مال او دولت مأمون او مصئون پاتې وي، د همدغه ځواب د آيت په راتلونکې ټوټه کې داسې فرمايي:

أَوَلَمْ نُمَكِّن لَّهُمْ حَرَمًا آمِنًا يُجْبَىٰ إِلَيْهِ ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ رِّزْقًا مِّن لَّدُنَّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٧﴾

آيا نه دی ورکړی (ځای) مونږ دوی ته داسې حرم، چې په امان دی (له قتل او غارته)، راچلولې کېدې (يا راچلولی کيږي) دي (حرم) ته (له هر طرفه) مېوې (لپاره) د هر څيز، رزق د دوی له جانبه ځمونږ، وليکن اکثر د دوی چې دي نه پوهيږي (په حق).

تفسير: شاه صاحب فرمايي: «د مکې معظّمې خلقو به ويل: که مونږ مسلمانان شو؛ نو د ټول عربستان مسکونين به له مونږ سره دښمنان شي، الله تعالى فرمايي: که اوس تاسې د هغوی د دښمنۍ او لاس غځولو څخه د چا په پناه کې ناست يئ؟ همدغه د حرم ادب مانع دی، چې سره له دغې سختې دښمنۍ او عداوت چې تاسې يې يو له بله سره لرئ؛ اطرافي اعراب پر تاسې يرغل او هجوم نه راوړي، چې تاسې له مکې معظّمې څخه د باندې وباسي، هغه الله چې اوس دغه ځای يې تاسې ته حرم ګرځولی دی، په هغه وخت کې هم تاسې ته پناه درکوونکی دی (موضح).

وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ بَطِرَتْ مَعِيشَتَهَا ۖ فَتِلْكَ مَسَاكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَن مِّن بَعْدِهِمْ إِلَّا قَلِيلًا ۖ وَكُنَّا نَحْنُ الْوَارِثِينَ ﴿٥٨﴾

او څومره (ډېر) هلاک کړي دي مونږ له (اهل د) کليو (او ښارونو) چې سرکشي يې کړې وه په معاش خپل کې، پس دا دي کورونه د دوی چې نه ده کړی شوې هستوګنه په کې پس له (اهلاک د) هغوی مګر لږ وخت (چې کوم مسافر کومه شپه هلته دمه کړې ده)، او يو مونږ همدا مونږ وارثان.

تفسير: يعنې د عربو له ښمنۍ څخه ولې ويرېږئ، د الله تعالى له عذابه وويرېږئ، آيا تاسو نه ګورئ او غور او دقّت نه کوئ، چې له تاسې څخه پخوا څومره لوی اقوام تېر شوي دي، چې هغوی ګرد پخپل عيش عشرت او خوښۍ مست او مغرور وو، نو هر کله چې هغو د تکبّر ، لويي او سرکښۍ لاره ځان ته غوره کړه؛ نو وګورئ چې پاک الله دوی څرنګه تباه ـ برباد او فنا کړل، چې نن ورځ د دنيا په مخ کې د هغوی نوم او نښه هم نه ده پاتې، تش دغه ويجاړې مېنې او کنډوالې يې پاتې دي، چې په هغوی کې هيڅ يو هستېدونکی نشته، پرته له دې نه چې کوم مسافر کومه شپه هلته کيني، او خپله دمه ونيسي، يا کوم پوه او هوښيار سړی د الله د قُدرت د دغه عبرتناکې منظرې د کتلو لپاره هلته ودريږي.

وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرَىٰ حَتَّىٰ يَبْعَثَ فِي أُمِّهَا رَسُولًا يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِنَا ۚ

او نه دی رب ستا (عادتًا) هلاک کوونکی (د اهل د دې) قريو تر هغه پورې چې وليږي په مور (لويه قريه ښار) د هغو (قريو ښار کې) يو رسول چې لولي پر دوی آيتونه ځمونږ (لپاره د قطع د عذر).

تفسير: يعني الله تعالى تر هغه پورې دغه کلي او ښارونه تباه ـ خراب او فنا کړي نه دي؛ څو د هغو مراکزو او لويو مراکزو او لويو ځايونو کې کوم هوښياروونکی نبي نه وي ورلېږلی، د مرکز تخصيص ښايي د دې لامله وي، چې د هغه اثر تر ډېر لرې ځای پورې رسيږي، او د ښارونو هستېدونکي نسبتًا سليم او عاقل هم وي، د ځمکې د مخ د ګردو ودانيو مرکز او د صدارت مقام بيت الحرام وو، لکه چې د «شورى» سورت په اوله رکوع (٢٥) جزء کې لولو: ﴿لِّتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا﴾ نو ځکه هلته د ګردو ځنې لوی او د آخر الزمان رسول مبعوث شو، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه أجمعين.

وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي الْقُرَىٰ إِلَّا وَأَهْلُهَا ظَالِمُونَ ﴿٥٩﴾

او نه يو مونږ هلاک کوونکی خرابوونکي د کليو د ښارونو مګر په هغه وخت کې چې اهل د هغو ظالمان وي (په تکذيب د رسولانو).

تفسير: يعني هر کله چې سره له پوهولو او هوښيارولو هم خلقو له کفره او شرکه لاس وانخيست، او هم هغسې په خپل کفر ـ ظلم ـ طغيان او عصيان کې چالان او مترقّي وو، دلته د الله تعالى په دغه عذاب اخته او هلاک او سپېره شول.

وَمَا أُوتِيتُم مِّن شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَزِينَتُهَا ۚ وَمَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٠﴾

او هر هغه چې درکړی شوي دي تاسې ته له کوم څيزه؛ پس هغه معاش نفع کار د دغه ژوندون لږ خسيس دی، او ښايست د هغه دی، او هر هغه چې په نزد د الله دی (اجر) خير غوره (دی) او باقي دی (له دغه فاني نه)، آيا پس تاسې عقل نه چلوئ (چې باقي بهتر دی په فاني باندې).

تفسير: يعني انسان ته ښايي چې له عقل او پوهې کار واخلي !، او دومره وپوهيږي چې دا ژوندون په دنيا کې تر کله پورې به وي؟ او د دنيوي د دغه باغ او بهار، عيش او عشرت، مزې اوچرچې به تر څه وخت پورې کوي؟ فرض يې کړئ چې په دنيا کې له سره پر ده عذاب هم رانشي، خو بيا هم د مرګي لاس تاسې ګرد له دغه ساز او سامان څخه جلا کوي، او بيا به د الله تعالى په مخ کې حاضر ږئ، او تر يوې يوې ذرې پورې به هم د خپل اعمالو حساب ورکوئ، که مو أخروي عيش او عشرت په برخه شو؛ نو دغه دنيوي عيش عشرت د هغه په مقابل کې هيڅ او لاشی دی، داسې به کوم پوه او عقلمن سړی وي، چې يو مکدر او منغص ژوندون ته پر يو بې غشه او غله ژوندون او يو ناقص او فاني لذّت ته پر کامل او باقي لذائذو ترجيح ورکوي؟، بلکه نه يې ورکوي.

أَفَمَن وَعَدْنَاهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِيهِ كَمَن مَّتَّعْنَاهُ مَتَاعَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ثُمَّ هُوَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْمُحْضَرِينَ ﴿٦١﴾

آيا پس هغه څوک چې وعده کړې ده مونږ له هغه سره وعده ښه (چې جنت دی) پس دی موندونکی دی د هغې وعدې (خامخا داسې دی) لکه هغه څوک چې معاش ورکړی وي مونږه ده ته معاش د (ژوندون لږ خسيس د) دنيا، بيا دی په ورځ د قيامت کې له حاضر کړيو شويو وي (اور ته؟ بلکه نه دي سره برابر دواړه !).

تفسير: يعني مؤمن او کافر دواړه د انجام په اعتبار کله سره يو برابر کېدی شي؟ د يوه لپاره د دائمي عيش کومه وعده چې شوې ده؛ هغه هرومرو پوره کېدونکې ده، او د بل لپاره د څو ورځو عيش او عشرت کولو څخه وروسته د بندی کړئ جلب ضروري رسېدونکی او دی په دائمي بنديخانه کې خامخا لوېدونکی دی (العياذ بالله).

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَائِيَ الَّذِينَ كُنْتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٧٤﴾

او یاد کړه هغه ورځ چې غږ به وکړي دوی ته الله، پس وبه وایي (الله) چېرته دي شریکان ځما هغه (شریکان) چې وئ تاسې چې ګمان به مو کاوه (پرې چې دا شریکان ځما دي)؟.

تفسیر: یعنې هغه د ألوهیت برخې لرونکي چېرې دي، هغوی دې وغوښت شي، چې اوس لږ څه د دوی تأیید او حمایت وکړي.

قَالَ الَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ رَبَّنَا هَؤُلَاءِ الَّذِينَ أَغْوَيْنَا أَغْوَيْنَاهُمْ كَمَا غَوَيْنَا تَبَرَّأْنَا إِلَيْكَ مَا كَانُوا إِيَّانَا يَعْبُدُونَ ﴿٧٥﴾

وبه وایي هغه کسان چې حقه ثابته شوې ده پر دوی خبره (د عذاب په دخول د اور سره): ای ربه ځمونږ ! دا (ضعیفان تابعان) هغه کسان دي چې ګمراه کړي وو مونږ (دوی)، (ګمراه کړي مو وو دوی) لکه چې ګمراه شوي وو مونږ، بېزاره یو مونږ تاته (له دوی او له کفره د دوی)، نه وو دوی داسې چې خاص ځمونږ عبادت به یې کوو (بلکه عبادت د هوا د نفس خپل یې کوو).

تفسیر: یعنې سؤال خو له مشرکینو څخه وو، مګر ګمراه کوونکي شرکاء به داسې وپوهیږي چې في الحقیقت مونږ ته هم تنبیه راکړی شوې ده، نو ځکه په ځواب ورکولو کې سبقت کوې، چې ای الله ! بېشکه چې مونږ دوی ګمراه کړي دي، مګر دا ګمراهي خو داسې ده لکه چې مونږ پخپله ګمراهان شوي یو، پس د دغو اغواوو په جرم مونږ اعتراف لرو، لیکن پر دغو مشرکانو خو ځمونږ له لوري هیڅ کوم جبر او اکراه نه وه، او نه مو هغوی په زوره دغې ګمراهۍ ته اړولي دي، في الحقیقت دغه د دوی نفسي اغراض او شخصي هوا پرستي وه، چې ځمونږ په غولولو وغولېدل، او پر مونږ پسې رهي (روان) شول، نو په دغه اعتبار دوی ځمونږ د عبادت په ځای د خپلو اهواوو او ظنونو په عبادت پسې لګیا وو، مونږ د دوی له عبادته څخه نن ورځ ستاسې په حضور کې د خپلې بېزاری او تنفّر اظهار کوو.

وَقِيلَ ادْعُوا شُرَكَاءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ

او وبه ویلی شي (کفّارو ته) چې وغواړئ تاسې شریکان د تاسې، پس را وبه غواړي دا (کفّار هغه بُتان)، پس هیڅ ځواب به ور نه کړي (دا بُتان) هغوی ته.

تفسیر: یعنې دوی ته به ویل کیږي چې اوس خپل مددګاران خپلې مرستې ته رابولئ، مګر هغوی به د دوی سره څه مرسته او مدد وکړی شي؟ ځکه چې په خپل غم او مصیبت کې به اخته او مبتلا وي، کذا قال المفسرون.

وَرَأَوُا الْعَذَابَ لَوْ أَنَّهُمْ كَانُوا يَهْتَدُونَ ﴿٧٦﴾

او وبه ویني دغه (تابعان او متبوعان) عذاب، که چېرې بېشکه دوی وی چې سمه صافه لاره یې نیولې وی (نو اوس به نه معذب کېدل، یا کاشکې په کوم ډول مو لاره موندلې وی).

تفسیر: یعنې د دغه وخت د عذاب د لیدلو څخه به داسې آرزو او تمنّا کوي، کاشکې زه په دنیا کې پر سمه صافه لاره تلی، تر څو په دغو مصائبو نه اخته او نه مبتلا کېدی.

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ مَاذَا أَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِينَ ﴿٦٥﴾ فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْأَنبَاءُ يَوْمَئِذٍ فَهُمْ لَا يَتَسَاءَلُونَ ﴿٦٦﴾

او یاده کړه هغه ورځ چې غږ به وکړي دوی ته (الله)، پس وبه وایي چې څه ځواب ورکړی وو تاسې رسولانو ته (په هغه وخت کې چې حق ته غوښتی شوي وئ؟). پس پټ به شي پر دوی خبرونه (چې دوی خلاص شي) په دغه ورځ کې، پس دوی به نه کوي پوښتنه یو تر بله.

تفسیر: پخواني سوالات د توحید په نسبت وو، دغه د رسالت په نسبت سوال دی، یعنې که تاسې پخپل عقل او پوهې سره په حقه نه وی پوهیدلي؛ نو د انبیاوو په پوهولو خو ښایي پوهېدی، دا راوښیئ چې تاسې له هغو سره څه سلوک او رویه کړې ده؟ په دغه وخت کې به هیڅوک هیڅ جواب نشي ورکولی، او د خبرو ګردې لارې به بندې شي، (او پټ به شي په دوی جواب).

فَأَمَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَعَسَىٰ أَن يَكُونَ مِنَ الْمُفْلِحِينَ ﴿٦٧﴾

پس هر هغه څوک چې توبه وباسي (له شرکه) او ایمان راوړي (په الله او رسول د الله) او عمل وکړي د نېکیو؛ پس ښایي چې وي به دی له خلاصېدونکیو.

تفسیر: یعنې د هغه ځای بری او کامیابي صرف له ایمان او صالح عمل سره ده، که اوس هم څوک له کفره او شرکه توبه وباسي، او ایمان راوړي، او د نېکیو لاره ځان ته غوره کړي؛ حق تعالی د ده ټول پخواني ګناهونه معافوي، او فائز المرام یې ګرځوي.

وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ ۗ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ۚ

او رب ستا پیدا کوي هغه څه چې اراده وفرمایي (د پیدایښت یې)، او غوره کوي یې، نه دی دوی ته هیڅ اختیار (په هیڅ شي کې).

تفسیر: یعنې د هر څیز پیدا کول د الله تعالی په مشیت او اختیار کې دي، او د کوم شي غوره کول یا د نورو له منځه د هغه منتخب کولو حق همده ته حاصل دی، او هر قسم چې الله تعالی اراده وفرمایي، او مرضي یې وي؛ هم هغسې احکام صادروي، هر یو سړی په هر یو منصب سره چې دی مناسب او لازم وبولي؛ هم هغه کار او منصب ورته عطاء کوي، په هر چا کې استعداد او لیاقت ودیعه کوي؛ نو د هدایت پر سمه لاره یې برابروي، او د مقصود تر منزله پورې په رسېدلو سره بری او کامیابي ور په برخه کوي، حافظ ابن القیم د «زاد المعاد» په اوائلو کې دغه مضمون په ډېر بسط او تفصیل سره لیکلی دی، فلیُراجع.

سُبْحَانَ اللَّهِ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٨﴾

پاکي ده الله لره او لوی پورته دی له هغه څه چې دوی یې ورسره شریکوي.

تفسیر: یعنې په تخلیق او تشریع او مذکور اختیار کې بل هیڅوک له الله تعالی سره نه دي شریک، مشرکانو چې پخپل تجویز او انتخاب کوم شرکاء درولي او ټاکلي دي؛ هغه ګرد باطل او بې سنده دي.

وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٦٩﴾

او رب ستا ته معلوم دي هر هغه چې پټوي يې سينې (زړونه) د دوی، او هر هغه چې ښکاروي يې (ژبې د دوی).

وَهُوَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ لَهُ الْحَمْدُ فِي الْأُولَىٰ وَالْآخِرَةِ ۖ وَلَهُ الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٧٠﴾

او همدی الله دی نشته دی بل لایق د عبادت مګر همدی دی، خاص همده ته ټوله ثناء ده په دنیا او (په) آخرت (عُقبی) کې، او خاص همدغه (الله) ته دی حکم، او خاص همدغه (الله) ته به بیولی شئ تاسې (په قیامت کې).

تفسیر: یعنې هم هغسې چې الله تعالی په تخلیق او اختیار او محیط علم کې متفرّد دی؛ په الوهیت کې هم واحد او یو دی، ماسوا له ده بل هیڅا ته بندګي او عبادت نه کیږي، ځکه چې د ده په منبع الکمالات ذات کې ګرد محاسن او محامد مجموع دي، د کلّي اقتدار مالک دی، او په آخره خاتمه کې د هر چا رُجوع د همده په لوري ده.

قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُمْ بِضِيَاءٍ ۖ

ووایه (ای محمده دوی ته): آیا وینئ (یعنې څرنګه درښکاري) که چېرې وګرځوي الله پر تاسې دغه شپه اوږده همېشه تر ورځې د قیامت پورې، نو څوک دي هغه (معبود) بې له الله چې راوړي تاسې ته رڼا (چې په کې طلب د معاش کوئ).

تفسیر: یعنې تاسې خبر راکړئ ! چې مثلاً الله تعالی پرې نه ږدي چې لمر طلوع وکړي، یا یې رڼا او تودوخه ترې لرې کړي، نو تاسې به د خپلو کارونو او چارو لپاره داسې تودوخه او رڼا له کومه راوړئ؟.

أَفَلَا تَسْمَعُونَ ﴿٧١﴾

آیا پس نه اورئ تاسې (دغه خبره د زړه په غوږو سره؟).

تفسیر: یعنې دا خبره دومره روښانه او صافه ده، چې تش په یوه اوږدلو سره هم په فهم او پوهه راځي، نو آیا تاسو له سره نه اورئ؟.

قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُمْ بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٧٢﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته): آیا وینئ تاسې (یعنې څرنګه درښکاري) که چېرې وګرځوي الله پر تاسې ورځ اوږده همېشه تر ورځې د قیامت پورې (چې هیڅ غروب الشمس ونشي)، نو څوک دی (معبود) بې له الله چې راوړي تاسې ته شپه چې آرام وکړئ تاسې په هغې کې؟ آیا پس نه وینئ تاسې (دا آثار د قُدرت).

تفسیر: یعنې تاسې خبر راکړئ ! که الله تعالی پرې نه ږدي چې لمر غروب وکړي، او تل ترتله ستاسې پر سرونو همداسې ولاړ وي؛ نو هغه راحت او سکون او نور فوائد چې د شپې له راتلو څخه حاصلیږي؛ د هغو حصول به په کوم یو طاقت سره ممکن کېدی شي؟ آیا دغسې یو ظاهر او باهر حقیقت هم تاسې نشئ لیدلئ؟.

تنبیه: ﴿أَفَلَا تُبْصِرُونَ﴾ له ﴿إِنْ جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا﴾ سره مناسب دی، ځکه چې په سترګو سره لیدل عادتًا پر رڼا موقوف دي، چې په ورځې کې په پوره ډول سره په عمل راځي، د شپې په تیاره کې کله چې د لیدلو هیڅ یو

صورت نشته، بلکه اوربدل په کې امکان لري؛ نو ځکه ﴿إِنْ جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَ سَرْمَدًا﴾ سره د ﴿أَفَلَا تَسْمَعُونَ﴾ فرمایل موزون وو، والله أعلم.

وَمِن رَّحْمَتِهِ جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾

او (خاص) له رحمته مهربانۍ خپلې پیدا کړې ده (الله) تاسې ته شپه او ورځ، لپاره د دې چې آرام وکړئ تاسې په هغه (شپه) کې، او چې ولټوئ تاسې (په دغه ورځ کې) له فضله د دغه (الله)، او لپاره د دې چې شُکر وکړئ تاسې (د نعماوو د الله).

تفسیر: یعنې د شپې او د ورځې اړول رااړول، ځو د شپې په تیارو کې مو سکون او راحت په برخه شي، او د ورځې په رڼا کې خپلو کارو او چارو ته هم دوام ورکړی شئ، او د شپې او د ورځې پر مختلف الأنواعو انعاماتو د الله تعالی د انعاماتو شُکر اداء کړئ.

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَائِيَ الَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٧٤﴾ وَنَزَعْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا فَقُلْنَا هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ فَعَلِمُوا أَنَّ الْحَقَّ لِلَّهِ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٧٥﴾

او (یاد کړه) هغه ورځ چې غږ به وکړي دوی ته (الله) پس وبه فرمایي چېرته دي شریکان ځما هغه چې وئ تاسې چې ګمان به مو کاوه (پرې د شریکانو ځما). او را وبه باسو له هر امّت (ملّت) څخه یو شاهد (پر اقوالو، افعالو، احوالو د دوی)، پس وبه وایو مونږ دوی ته: راوړئ تاسې بُرهان سند خپل (په اشراک)، پس هلته به پوه شي دوی چې حق په (الوهیت کې) خاص الله لره دی، او ورک به شي له دوی نه هغه چې وو دوی چې دروغ به یې جوړول (په دنیا کې چې الله شریک لري).

تفسیر: له شهید څخه احوال ښوونکي انبیاء علیهم السلام یا د دوی نائبان یا نور ښه سړي مقصود دي (موضح القرآن)، دوی به دغه راښیي چې خلقو له سماوي شرائعو او له الهي احکامو سره څه رویه کړې ده؟، نو الله تعالی به ورته وایي چې هر کله مو نبي ونه منو نو یو برهان او دلیل خو راوړئ چې تاسو په کوم دلیل ما سره شریکان ګرځولی پس هلته به پوه شي دوی، چې حق خاص الله تعالی لره دی، او ورک به شي له دوی نه هغه چې وو دوی چې دروغ به یې جوړول، یعنې په هغه وخت کې به دغه په نظر راځي، چې رښتیا خبره د پاک الله ده، او معبودیت هم یواځې د همده حق دی، او بل هیڅوک د ده شریک نشي کېدی، هغه خبرې چې په دنیا کې انبیاوو علیهم السلام ښوولې وې؛ هم هغه حقې او رښتیا وې، هغه عقائد او افکار چې مشرکانو له خپل لوري جوړ کړي وو؛ هغه ګرد په هغه ورځ کې بې اثره او ناقص او بېکاره ثابتیږي.

إِنَّ قَارُونَ كَانَ مِن قَوْمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ لَتَنُوءُ بِالْعُصْبَةِ أُولِي الْقُوَّةِ إِذْ قَالَ لَهُ قَوْمُهُ لَا تَفْرَحْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ ﴿٧٦﴾

بېشکه چې قارُون وو له قومه د موسی (یعنې د ده تربور وو)، پس سرکشي وکړه (قارون) پر دغو (بنې اسرائیلو)، او ورکړی وو مونږ ده ته له خزانو دومره قدر چې بېشکه کلیګانې د هغو به خامخا درنېدلې پر (داسې یوې) ډلې چې خاوندان د قوّت زور به وو، (یاد کړه) هغه وخت چې وویل دغه (قارون) ته قوم د ده (چې مسلمانان وو) په کبر او غرور سره مه خوشالېږه ! بېشکه چې الله محبّت نه کوي له خوشالېدونکو سره، (چې په مال د دنیا خوشالېږي).

تفسير: وايي چې قارُون د موسى عليه السّلام د تره ځوى يا تربور او د فرعون د مخې سړى وو، څرنګه چې د ظالمو حكومتونو دستور وي چې د كوم قوم د وينې څښلو لپاره د هم هغه قوم ځينې افراد د خپل كار آله او د لاس همسا ګرځوي، فرعون هم په بني اسرائيلو كې هم دغه ملعون ځان ته غوره كړى وو، قارون په دغه موقع كې چې فرصت موندلى وو، پخپلو دواړو لاسو سره د دولت او دنيا په ټولولو كې لګيا شوى وو، او ډېر لوى دنيوي اقتدار يې ځان ته ګټلى وو.

موسى عليه السلام يو ځلې پر قارون حكم وكړ چې: «د خپل مال زكات اداء كړه !»، نو قارون له خلقو سره وويل: «تر اوسه پورې كوم احكام چې موسى پر مونږ جاري كول، د هغه په مقابل كې مو حوصله او تحمّل كاوه، مګر آيا تاسې اوس د موسى عليه السلام د دغې خبرې تحمّل هم كولى شئ، چې دى ځمونږ د اموالو څخه زكاتونه هم غواړي؟»، څه خلق د قارون مؤيدان شول، او ويل يې چې: نه، ځمونږ له لاسه دغه نه ده پوره، بالآخر ملعون قارون د موسى عليه السلام د بدنام كولو لپاره يوه ډېره ناپاكه او چټله پلمه (تدبير) جوړه كړه، او يوې بدكارې ښځې ته يې څه بډې او پيسې وركړې، او ويې لمسوله چې د خلقو په يوه لويه جرګه كې كله چې موسى عليه السلام د زناء د حدّ په اطراف بيانات وركوي؛ ته هغه له خپله ځانه سره متهم كړه، لكه چې دغې پليتې ښځې په هم هغه لويه مجمع كې هم داسې يوه چټې (بېكاره) خبره وكړله، كله چې حضرت موسى عليه السلام هغې ته شديد قسمونه وركړل، او د الله تعالى له قهره او غضبه يې وويروله؛ نو هغه وويرېده، او په ښكاره ډول سره يې وويل چې: ما دغه د قارون په لمسولو سره ويلي دي، دلته د قارون د موسى عليه السلام په ښېرا سره له خپله كوره او خزانو په ځمكه خښ او ډوب كړل شو، د «مفاتح» تفسير يې په كنجيو (كليو) سره كړى دى، يعنې د اموالو دومره صندوقونه وروسره وو، چې د هغو د كليګانو په پورته كولو څو زورور كسان سترې كېدل، او دغه دومره مستبعد هم نه وو، لكه چې په ځينو تفاسيرو كې د هغه صورت هم ښوولى شوى دى، ﴿إِذْ قَالَ لَهُ قَوْمُهُ﴾ يعنې په دغه فاني او زائل دولت ولى نازيږى او پرى فخر او غرور كوي چې هغه د الله تعالى په نزد څه قدر قيمت نه لري او نه الله تعالى د مغرور بندګانو سره محبت كوي.

وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ

او وغواړه په هغه (دولت) چې دركړى دى تاته الله كور د آخرت.

تفسير: يعنې د الله تعالى وركړى مال د دې لپاره دى، چې انسان هغه د آخرت خپله پنګه وګرځوي، نه داسې چې د هغه د غفلت په نشو مست، مغرور او متكبّر شي، او د متكبرانو په شان حركت او وضعيت اختيار كړي.

وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ

او مه هېروه برخه خپله له (ماله د) دنيا او احسان كوه (له بندګانو د الله سره په وركړه د مال) لكه چې احسان كړى دى الله له تا سره (چې داسې ډېر دولت يې دركړى دى).

تفسير: يعنې د خپلې برخې سره تړې خوره ! او څښه ! او آغونده ! او د آخرت لپاره دې پنګه تړې واخله !، او په ناروا مواردو كې يې مه لګوه ! او د خلق الله سره ښه سلوك كوه !.

وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ﴿٧٧﴾

او مه غواړه (اى قارونه !) فساد (په تكبّر، ظلم او بغي سره) په ځمكه كې، بېشكه چې الله محبّت نه كوي فساد كوونكو سره.

تفسير: يعنې له موسى عليه السلام سره ضد مه كوه ! د الله تعالى پر ځمكه د مطيعانو په شان ګرځه ! او خامخا په بلاد الله كې شورماشور او غلغله مه جوړوه ! ځكه چې په ملك كې فتنه او فساد اچول ښه كار نه دى.

قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِىٓ ۚ

وويل (قارون قوم خپل ته): بېشكه همدا خبره ده چې راكړى شوى دى ماته دغه مال په هغه علم سره چې ما ځخه دى.

تفسير: يعنې هنرمن وم، او د ګټلو استعداد او سليقه مې درلوده، پخپل لياقت او قابليت يا د كوم خاص علمي مهارت لامله ماته دغه دولت حاصل شوى دى، الله تعالى هم ماته ځما د لياقت او اهليت په ملحوظ دغه مال، دولت او شته راكړي دي، او دغه ثروت په خوشې ناسته بې له محنته ماته په لاس نه دى راغلى چې اوس يې زه د موسى په حكم او مشوره خوشې ويړيا د الله تعالى په نوم لګوم.

أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِن قَبْلِهِۦ مِنَ ٱلْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا ۚ

آيا نه پوهېده (قارُون) چې بېشكه الله په تحقيق هلاك كړي دي پخوا له دغه (قارون ځخه) له (اهل د) زمانو هر هغه څوك چې دى ډېر سخت وو له دې (قارون) ځخه له جهته د قوّت، او ډېر وو له جهته د جمع كولو (د مال يا ملاتړه).

تفسير: يعنې د دولت ګټلو لياقت چا دركړ؟ افسوس دى چې تا د حقيقي منعم احسان هېر كړ، او د هغه په دركړي دولت او لياقت مغرور شوې، آيا ده دغه دولت له خپل نجات وسيله او ضامن ګڼلى وو؟ او دى په دغه نه وو خبر چې د ده ځخه پخوا څومره ملل او اقوام له خپلو همداسې شرارتونو او سركښيو له سببه هلاك او تباه شوي دي، چې د هغوى په لاسو كې لوى لوى سلطنتونه او ډېرې زياتې خزانې، لښكرې او نور زيات دنيوي وسائل او وسائط وو، آيا دغه ملعون د هغو د احوالو د اورېدلو ځخه پند او عبرت نه دى اخيستى؟.

وَلَا يُسْـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٧٨﴾

او نه به شي پوښتېدلى له ګناهونو خپلو ځخه كافران (ځكه چې الله ته معلوم دي).

تفسير: يعنې پوښتنې ته به ضرورت نه وي، پاتې الله تعالى ته د دوى ګناهونه يو په يو معلوم دي، او له پرښتو سره هم ليكلي پراته دي، هو ! كه د توبيخ او تقريع په ډول كوم وخت كوم سوال له دوى نه وشي؛ نو هغه بېله خبره ده، يا خو دغه كنايه ده د ګناه له كثرته، يعنې د دوى ګناهونه به دومره ډېر او زيات وي، چې دغه ته به ضرورت نه وي پاتې چې د يوې يوې جزئيې پوښتنه له دوى ځنې وكړه شي.

فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ فِى زِينَتِهِۦ ۖ قَالَ ٱلَّذِينَ يُرِيدُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا يَٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ أُوتِىَ قَٰرُونُ ۙ إِنَّهُۥ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٧٩﴾

پس راووت (قارون) پر قوم خپل په زينت ښايست (او دج خپل)، وويل هغو كسانو چې غوښت يې دغه ژوندون (لږ خسيس د) دنيا: اى كاشكې چې وى مونږ ته هم (له ثروته) په شان د هغو (اموالو اتباعو) چې وركړى شوي دي قارون ته، بېشكه چې دغه (قارون) خامخا خاوند دى د برخې لويې (له دنيا ځخه).

تفسير: يعنې قارون خپل فاخره لباس واغوست، او سره له ډېرو خدمو او حشمو، او په ډېر شان او شكوه ، او جل او بل ووت، چې د هغه د ليدلو څخه د دنيا د طالبانو سترګې رړې بډې پاتې شوې، او ګرد ورته هك حيران ودرېدل، او له خپلو ځانونو سره به يې داسې ويل: «كاشكې چې مونږ هم د داسې دنيوي شان او شوكت خاوندان وی !، او همداسې ترقي او عروج مو حاصل كړی وی؛ چې نن د قارون په برخه شوی دی، بېشكه چې دی ډېر د اقبال او اجلال خاوند او ډېر خوش قسمته سړی دی».

وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللَّهِ خَيْرٌ لِّمَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ۖ وَلَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الصَّابِرُونَ ﴿٨٠﴾

او وويل (دوی ته) هغو كسانو چې وركړی شوی وو (هغوی ته) علم فهم چې: افسوس دی تاسې ته (ای طلابو د دنيا)، ثواب د الله خير ډېر غوره دی هغه چا ته چې ايمان يې راوړی دی (په الله او رسول الله) او عمل يې كړی دی د نېكيو، او نه ورکول كيږي (يا نه ښوولی كيږي) دغه (خبره) مګر صبر كوونكيو ته (په طاعت او مصيبت او له معصيته).

تفسير: يعنې پوهانو او ذي علم سړيو وويل چې: «ای كمبختانو ! په دغه فاني جل وبل كې څه ايښي دي چې د هغه هوس او ارمان كوئ؟ صالحانو مؤمنانو لپاره د الله تعالى په دربار كې كوم دولت او عزّت چې شته، او دوی ته وررسېدونكی دی؛ د هغه په مقابل كې دغه دنيوي شان او شوكت محض هيڅ او لاشي دي، او دومره يو نسبت هم سره نه لري، لكه چې د يوې ذرې نسبت له لمر سره كيږي»، داسې خبری هغو خلكو ته ښوولی كيږی چې په دنيا كې د الله تعالى په طاعت ټينګ ولاړ وي، د ګناهونو نه ځان ساتي، او په مصيبتونو او كړاوونو صبر كوي ځكه چې هغوی د حقيقی ژوند په قدر قيمت پوهيږي.

فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُ مِن فِئَةٍ يَنصُرُونَهُ مِن دُونِ اللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنتَصِرِينَ ﴿٨١﴾

پس ننه ايست مونږ دغه (قارون) او كور د ده په ځمكه كې، پس نه وو ده ته (په دغه وخت كې) هيڅ ډله (د دوستانو) چې مدد ګاري يې كړي وی له ده سره غير له الله څخه (په دفع د عذاب كې)، او نه وو (قارون پخپله) له بدل اخيستونكيو څخه (چې ځان يې له عذابه خلاص كړی وی).

تفسير: يعنې نه بل څوك له خپله طرفه د ده مدد ته ورسېد، او نه يې څوك د خپل مدد لپاره وغوښتی شو، نه يې خپل قوّت په كار ورغی، نه د بل چا.

وَأَصْبَحَ الَّذِينَ تَمَنَّوْا مَكَانَهُ بِالْأَمْسِ يَقُولُونَ وَيْكَأَنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ

او سبا كړ هغو كسانو چې آرزو به يې كوله د مرتبې د دغه (قارون) په پرون (ماښام) كې ويل به يې (يو بل ته): افسوس دی تاته پوه شه ! چې بېشكه الله پراخوي رزق روزي په هر هغه چا چې اراده وفرمايي (د پراخولو يې) له بندګانو خپلو، او تنګوي (الله دغه روزي په هر هغه چا چې اراده وفرمايي د تنګولو يې).

تفسير: يعنې هغه كسان چې د قارون ترقي او ترفّع د ليدلو څخه پرون داسې ارزو او هيله (اميد) كوله چې: «كاشكې مونږ ته هم داسې عُروج او ترقي حاصله شوي وی»؛ نن د قارون د دغه بد انجام د ليدلو څخه لاسونه پر غوږونو

ږدي، او توبې وباسي، او اوس په هوش راغلل، چې دغسې دولت په حقيقت کې د يوه ښکلي مار په شان دی، چې د هغه په منځ کې مهلک زهر وي، دغه دنيوي ترقي او تنزيل د کوم بنده د مقبوليت او مردوديت معيار نشي کېدی، بلکه دغه د الله تعالی مصلحت او حکمت دی، پر هر چا چې لازم او مناسب وګڼي؛ د رزق او د روزۍ ورونه (ابواب) ورپرانيځي، او هر چا ته چې مناسب وي؛ روزي ورتنګه او په اندازه کوي يې، د مال او دولت پراخوالی د ښې خاتمې او مقبوليت دليل نه دی، بلکه علی الأکثر د هغه نتيجه تباهي او بربادي ده، او د ابدي هلاکت او فلاکت په صورت څرګندېږي.

لَوْلَآ اَنْ مَّنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا ؕ وَيْكَاَنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ۝۸۲

که چېرې نه وی دا چې احسان کړی دی الله پر مونږ؛ نو خامخا ډوب کړي به يې وو مونږ په ځمکه کې (د قارون په شان)، افسوس دې ته؛ نه پوهيږي نه وينې دا چې نه خلاصيږي کافران (له عذابه).

تفسير: يعنې دغه د الله تعالی مهرباني او احسان دی چې مونږ يې د قارون په شان ونه ګرځولو، که نه ځمونږ حال او احوال به هم داسې کېده، له خپل لوري که مونږ د ډېر حرص او طمعې له سببه داسې هيله او آرزو کړې وه: ﴿يٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ قَارُوْنُ﴾ الله تعالی ځمونږ په مخ کې خير راپېښ کړ، چې ځمونږ دغه آرزو او هيله يې تر سره ونه رسوله، او نه يې پر دغه حرص او طمعې مونږ ته څه تنبيه او سزا راکړه، بلکه د قارون نتيجه او حشر يې مونږ ته راښکاره او مونږ يې په دغه وسيله سره ويښ او منتبه کړو، اوس مونږ ته دغه خبره ښه څرګنده شوه، چې محض د مال او زر په ترڅ سره حقيقي فلاح او بری هيڅا ته نشي حاصلېدی، او دغه چې ناشکره منکران له سره د الله د عذابه نجات نشي موندلی.

تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا ؕ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ۝۸۳

دغه کور د آخرت (چې جنّت دی) ورکوو مونږ دا لپاره د هغو کسانو چې نه لري اراده د لويي (او تکبّر) په ځمکه کې، او نه فساد ظلم کوي (پر خلقو)، او عاقبت ښه خاتمه لپاره د پرهېزګارانو ده.

تفسير: يعنې د قارون د دولت په نسبت ناپوهانو داسې ويل چې: قارون خو ډېر خوش قسمته او بختور سړی دی، حال دا چې دغه خوش قسمتي او بختورتوب نه دی، بلکه د آخرت ګټه په لاس کول لويه خوش قسمتي ده، او دغه ګټه د هغو کسانو لپاره ده چې د الله تعالی په ملګ کې شرارت او فساد غورځول نه غواړي، او په دغه فکر کې له سره نه دي، چې خپل ځان له ګردو ځخه لوی او لوړ (اوچت) وګڼي، بلکه د تواضع او انکسار او پرهېزګاری لار ځان ته اختياروي، د دوی کوښښ د دې په ځای چې خپل ذات لوړ او لوی ښکاره کړي؛ تل په دغه کار کې مصروف او معطوف دي چې خپل دين لوړ کړي، او کلمة الله په اعلاء کې ووينې.

په هر حال د مؤمنانو اصلي مقصد آخرت دی، د دنيا هغه برخه چې د دغه مقصد ذريعه وګرځي؛ هم هغه ښه او مبارکه ده که نه هيڅ.

مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا ۚ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى الَّذِيْنَ عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝۸۴

او هر چا چې وکړه کومه نیکي؛ پس شته ده ته (ښه جزاء) خیر غوره له جهته د دغې (حسنی) او هر چا چې وکړه کومه بدي؛ پس نشي ورکولی جزاء هغو کسانو ته چې کړی یې دی (عمل د) د بدیو مګر (جزاء د هغه شي) چې وو دوی چې کاوه به یې (په دنیا کې).

تفسیر: یعنې کومه نیکي چې دلته وکړي؛ له هغه څخه ښه او بهتره نیکي به هلته ورسره وکړه شي، د یوې نېکۍ څرنګه چې د هغه اقتضاء وي؛ اقلاً لس چنده د هغه ثواب ورکاوه کیږي، شاه صاحب لیکي: «پر نېکۍ باندې د نېکۍ وعده یې ورکړه، چې هغه علی الیقین رسېدونکې ده، او پر بدي یې د بدۍ وعده ونه فرمایله، چې ضرور به وررسیږي، ځکه چې ممکن دي چې هغه ورمعاف شي، هو ! دومره یې وفرمایل چې: د هغه فعل له سزا څخه به ډېره سزا ورته ونه رسیږي».

إِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لَرَادُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ ۚ

بېشکه هغه (الله) چې فرض (نازل) کړي یې دي پر تا (احکام د) قرآن؛ خامخا بېرته بیوونکی دی د تا هغه ځای د وعدې (مکې) ته.

تفسیر: ځینو مفسّرینو له «معاد» څخه موت مراد کړی دی، او ځینو آخرت، او ځینو جنت، او ځینو د شام ځمکه چې هلته دوی یوځلې د معراج په شپه تشریف وړی وو، حافظ عماد الدین ابن کثیر (رحمة الله علیه) په دغو اقوالو کې ډېر عمیق او لطیف تطبیق کړی دی، یعنې له معاده دلته مکّه معظّمه مراده ده (کما في البُخاري) مګر د مکې معظمې فتح د قرب الأجل علامه ده، لکه چې ابن عباس او عمر رضي الله تعالی عنهما د ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ﴾ په تفسیر کې وفرمایل: د وړاندې «أجل» څخه وروسته د «حشر»، د حشر څخه وروسته د «آخرت»، او د آخرت وروستنی منزل جنّت دی.

مطلب یې داسې شو چې الله تعالی به تا ږومبی په یوه شانداره طریقه سره بېرته مکې معظّمې ته راولي، وروسته له هغه څو ورځې اجل مو واقع کیږي، بیا به د شام په ځمکه کې حشر کېږئ، لکه چې له أحادیثو څخه ثابت شوي دي، بیا په آخرت کې به هم په ډېر شان او شوکت سره تشریف راوړئ، او په آخر کې په جنّت کې ډېر اعلی مقام ته استول کېږئ.

قُل رَّبِّي أَعْلَمُ مَن جَاءَ بِالْهُدَىٰ وَمَنْ هُوَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٨٥﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) رب ځما ته ښه معلوم دي هغه څوک چې راتګ یې کړي په هدایت سره او هغه څوک چې هغه په ګمراهۍ ښکاره کې دی.

تفسیر: یعنې الله تعالی ته ځما هدایت او د مکذبینو او معاندینو ګمراهي ښه معلومه ده، یقیناً دی به له هر یوه سره سم د دوی له احواله سره معامله کوي، او دغه له سره نشي کېدی چې ځما دغه کوښښ ضایع شي، یا ګمراهان رسوا، سپک او ګمراه نه کړي.

وَمَا كُنتَ تَرْجُو أَن يُلْقَىٰ إِلَيْكَ الْكِتَابُ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَافِرِينَ ﴿٨٦﴾

او نه وې ته چې توقّع امید دې درلود (لرلو) د دې چې راوبه لېږلی شي تاته کتاب (قرآن)، لیکن (راولېږلی شو محض) په رحمت مهربانۍ له (جانبه) د رب ستا، پس مه کېږه ته خامخا مددګار لپاره د کافرانو (په دین د دوی کې).

تفسير: ته له پخوا ځني د نبوّت په انتظار کې نه وې، دا محض د الله تعالى رحمت او موهبت دى، چې ته يې په رسالت سره سرفراز کړې، نو هم هغه الله تعالى به په دنيا او آخرت کې تاته برى او کاميابي درکوي، لهذا اى محمده ! د ده پر معاونت او امداد تل ترتله اعتماد او اطمينان ولره !.

وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ بَعْدَ اِذْ اُنْزِلَتْ اِلَيْكَ وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝۸۷

او (خبردار چې) وا دې نه روي (کفّار) خامخا تا (په مکر او فريب) له آيتونو د الله پس له هغه چې نازل کړل شول تاته، او وبوله خلق (توحيد او عبادت) د رب خپل ته، او مه کېږه ته خامخا له مشرکانو څخه (په اعانت د دوى کې).

تفسير: يعنې ته دې د دښمن په کار کې د خپل قوم خاطر او رعايت مه کوه ! او مه دې خپل ځان په هغوې کې شمېره ! اګر که دوى ستا له قرابت دارانو څخه هم وي، هو ! دوى ګرد د خپل رب په لورې وبوله ! او د الله تعالى د احکامو په تعميل کې تينګ اوسه !.

وَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ

او مه بوله ته له الله سره معبود بل (ځکه چې) نشته هيڅ لايق د بللو بل هيڅوک مګر همدى دى (يوائې، ځکه چې) هر څيز فاني کېدونکى دى مګر مخ د ده (چې تل باقي دى).

تفسير: دغه خطاب اګر که پخپله رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دى، مګر بالوسيله په دغه سره نورو ته پند او نصيحت ورکول کيږي، د پاس آيتونو په نسبت ځينې مفسّرينو همداسې ليکلي دي، يعنې هر شى له خپله ذاته معدوم دى، او تقريبًا ټول شيان فناء کېدونکي دي، اعم له دې چې په هر وخت کې وي، مګر خو د الله تعالى مخ چې نه له سره معدوم وو، او نه هرګز فناء کېدونکى دى، رښتيا ده: (ألا كلّ شيء ما خلا الله باطل)، و قال الله تعالى: ﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۝ وَّيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ﴾. (چې مراد تري د الله تعالى ټول ذات دي).

لَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝۸۸

همده ته دى حکم (نافذه قضاء)، او همده ته به بېرته بوتلى شئ تاسې (لپاره د جزاء).

تفسير: يعنې د ګردو حضور د ده په مخ کې د حساب او کتاب لپاره يو حتمي او ضروري شى دى، چې هلته يوائې د همده حکم چليږي، او صورتًا، ظاهراً، او مجازاً هم د بل هيچا حکم نه چليږي، او نه به قوّت او اقتدار ورپاتې وي، اى الله ! جار دې شم ! په همدغه وخت کې پر دغه ګناهګار بنده دې رحم وفرمايه ! او له خپله غضبه يې وساته !.

تمّت سورة القصص ولله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ العَنكَبُوتِ

«د (العنكبوت) سورت مکّي دی، پرته له (۱ ـ ۱۱) آیتونو پورې چې مدني دي، (۶۹) آیته او (۷) رکوع لري، په تلاوت کې (۲۹) او په نزول کې (۸۵) سورت دی، وروسته د «الروم» له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

الٓمٓ ﴿۱﴾ أَحَسِبَ النَّاسُ أَن يُتْرَكُوٓا أَن يَقُولُوٓا ءَامَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ ﴿۲﴾

آیا ګمان کوي دا خلق د دې چې پرې به ښودی شي دوی (په) همدې قدر چې ووایي دوی چې: ایمان راوړی دی مونږ؛ حال دا چې دوی به ونه ازمویل شي؟.

تفسیر: یعنې په ژبه سره د ایمان دعوی کول دومره سهل او آسانه نه دي، هر څوک چې د ایمان دعوی کوي، امتحان او ابتلاء ته دې یې هم تیار شي !، همدغه د امتحان محک دی چې پرې سره او ناسره سولولی کیږي او معلومیږي، په حدیث کې راغلي دي چې: له ګردو څخه سخت امتحان د انبیاوو دی، وروسته له هغه د صالحینو بیا درجه په درجه د هغو خلقو دی، چې له هغو سره مشابهت لري، او د انسان امتحان د ده د دین او ایمان له حیثیته اخیست کیږي، په هر اندازه چې انسان پخپل دین او ایمان کې مضبوط او سخت وي؛ په هم هغه اندازه له هغه څخه سخت امتحان اخیست کیږي.

وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ

او خامخا په تحقیق ازمویلي وو مونږ هغه کسان چې له دوی نه ړومبي وو.

تفسیر: یعنې د ړومبنیو انبیاوو د متبعینو ډېر لوی او سخت امتحان اخیست شوی دی، په صحیح بخاري شریف کې دي چې: صحابه وو رضي الله عنهم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې عرض وکړ، چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ! ځمونږ لپاره د الله تعالی له درباره دعاء او مدد وغواړئ ! دا هغه زمانه وه چې د مکې معظّمې مشرکینو پر مسلمانانو باندې انتهایي ظلم او ستم کوو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل، چې پخوا له تاسو به یې یو (ژوندی) انسان په ځمکه کې ولاړ خښوو، او بیا د هغه پر سر به یې اره کشوله، او د ده سره به له منځه دوه توټې توټې کېده، د ځینو نورو مؤمنینو پر وجود به یې د اوسپنې تک سره سیخونه وهل او لګول، چې د هغو په اثر به د دوی پوستکي او غوښتې وریتې کېدې او سوځېدې، تناکې به یې وهلې، او لاندې به لوېدې، خو سره د دغو سختیو باوجود له خپل دین څخه به یې دوی نشو ګرځولی.

فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ ﴿۳﴾

پس خامخا معلوم به کړي الله (په علم ظاهري سره ـ په کوم علم چې ثواب او عقاب مرتب دی ـ هم) هغه کسان چې رښتیني دي (په دعوی د ایمان کې)، او خامخا معلوم به کړي الله (هغه) دروغجنان (په علم ظاهري سره هم).

تفسير: يعني الله تعالى په علانيه ظاهروي او هر يو به پوهيږي چې د ايمان په دعوى کې کوم يو رښتين راوځي؟ او کوم يو دروغجن څرګندیږي، او سم له هغه سره به هر يوه ته سزا ورکوي.

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ أَنْ يَسْبِقُونَا ۚ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٤﴾

آيا ګمان کوي هغه کسان چې عمل کوي دوى د بديو (لکه شرک او معاصي) د دې چې ږومبى به شي دوى پر مونږ (چې مونږ به له دوى نه انتقام ونشو اخيستى)، بد دى هغه حکم چې کوي يې دوى (چې نفي د انتقام دى).

تفسير: يعني د مؤمنينو امتحانات دي کافران داسى ونه ګڼي چې مونږ په خوندونو او مزو سره ظلمونه کوو او دهغو له سختيو څخه ساتلى يو، دوى له مونږه خپل ځانونه چيرى ساتلى شي هغه سختى سزاوى چې دوي ته ورکولى کيږي د هغه په مقابل کې د امتحان سختئ هيڅ نه دي دوي ددى عارضى مهلت په نسبت چې کوم نظر لري چې مونږ به تل مأمون يو په حقيقت کې ډيره بده خرابه فيصله يې کړي ده.

مَنْ كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ اللَّهِ فَإِنَّ أَجَلَ اللَّهِ لَآتٍ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٥﴾

هر څوک چې وي اميد لري دى د ملاقات د الله (په جنت کې)؛ پس بېشکه اجل نېټه د (ملاقات د) الله خامخا راتلونکې ده، (نو ښايي چې ورته تيار شي)، او همدى ښه اوربدونکى دى (د ټولو اقوالو) ښه عالم دى (پر ټولو احوالو).

تفسير: يعني هر هغه سړى چې په دغه توقّع سختي ګالي، چې يوه ورځ به زه هرومرو د الله تعالى په مخ کې حاضربدونکى يم، چې هلته تر يوې ذرې پورې هم حساب او کتاب کيږي، که زه دلته په دغه امتحان کې ناکام شوم؛ نو د دغه ځاى له سختيو څخه په زياتو سختيو کې اخته کېدونکى يم، او که ترې بريالى او کامياب ووتلم؛ نو دغه ګرد تکاليف به ځما له مخې څخه لرې کيږي، او د الله تعالى رضاء او لقاء به مې په برخه کيږي، نو داسې سړى دې په ياد ولري چې د الله تعالى وعده هرومرو راتلونکې ده.

وَمَنْ جَاهَدَ فَإِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ ﴿٦﴾

او هر څوک چې جهاد کوي (له کفّارو يا له نفس خپل سره)؛ پس بېشکه همدا خبره ده چې جهاد کوي لپاره (د نفعې) د نفس خپل، بېشکه چې الله خامخا غني بې پروا دى له ټولو عالميانو څخه.

تفسير: يعني الله تعالى ته د چا له طاعت او عبادت څخه هيڅ نفع او له معصيته هيڅ قسم نقصان نه رسيږي، هغه غني ذات له هغې شيانو څخه په کلي ډول سره بې پروا او بې نيازه دى، هو ! بنده په هره اندازه چې د الله تعالى په طاعت کې محنت او زيار پر ځان اخلي؛ د هغه ثمره او نتيجه ورته په دنيا او آخرت کې رسيږي، پس مجاهده کوونکى دې هيڅکله داسې خيال ونه کړي، کله چې مونږ د الله په لاره کې دومره زحمت کوو؛ نو (معاذ الله) پر الله تعالى خپل څه منّت او احسان باروو، بلکه بالعکس دا د هغه الله تعالى مرحمت او احسان دى، چې تاسې ته يې ستاسې د ګټې او فائدې لپاره د طاعت او رياضت توفيق درکړى دى.

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَحْسَنَ الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٧﴾

او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی، او کړي یې دي ښه (عملونه) خامخا وبه رژوو مونږ هرومرو له دوی نه ګناهونه د دوی، او خامخا جزاء به ورکړو مونږ هرمرو دوی ته ښه جزاء د هغه (عمل) چې وو دوی چې کاوه به یې (په اسلام کې).

تفسیر: یعنې سره له دې نه چې الله تعالی د ګرد عالم څخه غني، بې پروا او بې نیاز دی، خو بیا هم په خپل رحمت او شفقت سره ستاسې محنت او زحمت نه ضایع کوي، او په ځای یې رسوي.

وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا ۖ وَإِنْ جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ۚ

او (مؤکد) امر کړی دی مونږ پر انسان له مور پلار خپل سره یې د نېکۍ (هر کله په هر څه کې)، او که کوښښ کوي (دوی دواړه) له تاسره چې شریک ونیسې ته له ما سره هغه څیز چې نشته تاته په (الوهیت) د هغه کې هیڅ علم؛ پس اطاعت مه کوه ته د دوی (دواړو).

تفسیر: ﴿فَلَا تُطِعْهُمَا ۚ﴾ «اطاعت مه کوه ته د دې دواړو په اشراک بالله کې».

په دنیا کې له موره او پلاره د بل هیچا حق زیات نه دی، خو د الله تعالی حق له دوی نه هم ډېر دی، د والدینو لامله نه ښایي چې د الله تعالی دین پرېږدي (موضح)، په حدیث کې راغلي دي، چې د سعد بن أبي وقّاص رضي الله عنه والده چې مشرکه وه، کله چې د خپل ځوی د اسلام خبر یې واورېد؛ نو له خپله ځانه سره یې عهد وکړ، څو سعد (معاذ الله) له اسلامه مرتدّ نشي؛ نو زه به له سره خوړل او څښل نه کوم، او تر چت لاندې به آرام ونه کړم، لکه چې هغې له طعام خوړلو او له اوبو څښلو خپله خوله وترړله، او بیخي خواره زهیره شوه، خلقو به په زور او زیادت د دې خوله پرانستله، او ډوډۍ او اوبه یې ورکولې، نو په دغه مناسبت دغه آیت نازل شو، ګواکې دغه یې راوښودل چې د والدینو په داسې شان پر خلاف الحق باندې مجبورول هم هغه یو شان ابتلاء او امتحان دی، ښایي چې د خالص مؤمن د ثبات پښه تر یې ونه ښوېږي.

إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾

خاص ماته دي بیا راتله د تاسې (ټولو)، پس خبر به کړم زه تاسې پر هغو (اعمالو) چې وئ تاسې چې کول به مو (په دنیا کې).

تفسیر: یعنې ټول به په هغه عدالت کې حاضر ېږئ !؛ په دغه وخت کې به ګردو ته دا ورښوول کېږي، چې په اولاده او والدینو کې کوم یو متجاوز او له خپله حده تېری کوونکی وو؟ او کوم یو پر حق او صداقت قائم وو.

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي الصَّالِحِينَ ﴿٩﴾

او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه) خامخا داخل به کړو مونږ هرومرو دوی په (جماعت) د صالحانو کې (چې انبیاء او اولیاء دي).

تفسیر: یعنې هر څوک چې سره له داسې زبردستو موانعو او عوائقو هم پر ایمان او د نېکۍ پر لاره قائم وي؛ حق تعالی به د هغه حشر پخپلو خاصو بندګانو کې کوي، ابن کثیر (رحمه الله) لیکي: «که اولاد په ناحقه خبره کې د خپلو والدینو خبره ونه منله، او والدین هم هغسې په ناحقه ټینګ ولاړ وي؛ نو د اولاد حشر به له صالحینو سره کېږي، او د ده د والدینو په زمره کې به نه کېږي، اګر که د طبیعي او نسبي تعلقاتو په بناء دی د ګردو څنې دوی ته ډېر نژدې وي، په

«المرء مع من أحبّ» (چې سړی به د هغه چا سره چې د هغه سره مینه لری) کې دیني محبّت مراد دی، طبیعت محبت نه دی مراد».

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ فَإِذَا أُوذِيَ فِي اللَّهِ جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللَّهِ ۖ

او ځینې له خلقو څخه هغه څوک دي چې وایي (تش په خوله) ایمان راوړي دی مونږ په الله باندې، پس کله چې سختي ورسوله شي ده ته په (لاره) د الله کې؛ نو وګرځوي فتنه سختي خپګان د خلقو (او شمیرې یې) په شان د عذاب د الله.

تفسیر: دغه د هغو خلق ذکر دی چې پخپله ژبه ځان ته «مؤمن» وایي، مګر د دوی په زړونو کې له سره ایمان راسخ نه وو، دوی ته هر چېرې چې د الله تعالی په لاره کې کوم ربړ یا تکلیف وررسېده، یا د دین له سببه یې څوک تکلیفوو؛ نو دغه امتحان او آزموینه دوی د الله تعالی د عذاب په منزله ګڼله، څرنګه چې انسان د الله تعالی له عذابه ویریږي، او خپل ځان تړې ساتي، او وروسته د هغه له نزوله له خپلې هغې پخوانۍ دعوی څخه لاس واخلي، او ناچاره اعتراف او اقرار کوي چې زه په غلطۍ کې وم؛ همدغسې حال د هغو ضعفاوو القلوبو دی، هر چېرې چې د دین په معامله کې کومه سختي ورورسیږي؛ نو ژر تر ژره ویریږي، او د ایمان له دعوی څخه لاس اخلي، او په ژبه یا په عمل سره ګواکې داسې اقرار کوي چې مونږ پخپلې دغې دعوی کې په غلطۍ کې وو، یا دغسې دعوی مو له سره نه وه کړې.

وَلَئِنْ جَاءَ نَصْرٌ مِّن رَّبِّكَ لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ۚ

او قسم دی که چېرې راشي مدد ګاري (د مؤمنانو) له (طرفه) د رب ستا (چې فتح او غنیمت یوسي)؛ نو خامخا وبه وایي دغه (منافقان) هرومرو بېشکه مونږ (هم) یو له تاسې سره (په ایمان کې) (نو په غنیمت کې مو شریک کړئ).

تفسیر: یعنې که د مسلمانانو کوم عروج او موفقیت وګوري؛ نو له خپله ځانه د هغه په نسبت خبرې جوړوي، چې مونږ خو له تاسې سره وو، او اوس هم ستاسې اسلامي وروڼه یو، خصوصًا که مسلمانان فاتح شي، او فرض یې کړئ که دغه خلق چې د کفّارو سره یې معاونت کاوه، د مسلمانانو په لاس کې بندیان شي؛ نو بیا د دوی د نفاق او تملّق لپاره هیڅ حد او اندازه نشته.

أَوَلَيْسَ اللَّهُ بِأَعْلَمَ بِمَا فِي صُدُورِ الْعَالَمِينَ ﴿١٠﴾

(وفرمایل الله) آیا نه دی الله ښه عالم په هغه (اخلاص او نفاق) چې په سینو زړونو د عالمیانو کې (پټ) دی (بلکه په هر شي باندې ښه عالم دی).

تفسیر: یعنې لکه چې ځینې له دغو خلقو له مسلمانانو سره دي، الله ته دغه ګرد (ټول) معلوم دي، آیا تش د ژبې په دعوی سره دوی له الله تعالی څخه د خپلو زړونو احوال پټولی شي؟.

وَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنَافِقِينَ ﴿١١﴾

او خامخا معلوم به کړي الله (په هغه علم چې ثواب او عقاب وربانديې مرتّب دی) هرومرو هغه څوک چې ایمان یې راوړی دی، او خامخا معلوم به کړي هرومرو (الله) منافقان (نو ور به کړي هرې یوې فرقې ته جزا موافقه).

تفسير: يعني الله تعالى ته لا له پخوا څخه هر شی پوره معلوم دی، ليکن اوس ستاسې اعمال او افعال نورو ته هم ورښيي او ظاهروي يې چې آيا د عمل په ميدان او په ښکاره ډول کوم يو له تاسې خپل ځان صادق مؤمن ثابتوي؟ او کوم يو دروغجن ـ دغاباز او منافق دی؟، نو هغو ته د هغوی د عملونو موافق جزا ورکول کيږی.

تنبيه: په دې قسم مواضعو کې د ﴿وَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ﴾ معنی په (ليرينّ الله) سره له ابن عبّاس رضي الله تعالى عنه څخه منقول دي، كما في تفسير ابن كثير (رحمه الله).

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا اتَّبِعُوا سَبِيلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطَايَاكُمْ

او وايي هغه کسان چې کافران شوي دي هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی دی: متابعت وکړئ تاسې د لارې ځمونږ (په دنيا کې) او ښايي بار به کړو (پر ځانونو) ګناهونه ستاسې.

تفسير: يعني کفارو به مسلمانانو ته ويل: «راځئ اسلام خوشې کړئ ! او په خپلو هم هغو پخوانيو ورورګلويو او خپلويو کې ننوځئ ! او ځمونږ پر لاره تګ وکړئ، څو له ګردو تکاليفو او ايذاوو څخه نجات وموميئ !، او بې سببه په دغو مصائبو او تکاليفو کې پاتې نشئ، او که تاسې داسې اقدام ګنهئ، او له مؤاخذې څخه يې ويرږئ؛ نو د الله تعالى په دربار کې ځمونږ نوم واخلئ، چې دوی مونږ ته داسې مشوره راکړې وه، او که داسې کومه پېښه دروړاندې شي؛ نو ګرد مسئوليت او ذمه واري به مونږ په خپل سر اخلو».

وَمَا هُمْ بِحَامِلِينَ مِنْ خَطَايَاهُمْ مِنْ شَيْءٍ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿١٢﴾ وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَعَ أَثْقَالِهِمْ

حال دا چې نه دي دوی (پخپل ځان) اخيستونکي له ګناهونو د دوی د هيڅ شي، بېشکه دوی خامخا دروغجنان دي (په دغه وعده کې). او خامخا بار به کړي هرومرو (دغه کفّار) بارونه درانه د ګناهونو خپلو او نور درانه بارونه هم سره له بارونو درنو د ګناهونو خپلو.

تفسير: يعني دوی دروغجنان دي، او ستاسې بار د يوې ذرې په اندازه هم دوی نشي سپکولی، هو ! خپل بار درنوي، يو خو د دوی د ذاتي ګناهونو بار وو، اوس د نورو د اغواء کولو او د ګمراه کولو بار پر هغه لا زيات شو، شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «که څوک وغواړي چې رفاقت وکړي، او د بل چا د ګناه بار پر خپله اوږه واخلي؛ امکان نه لري، مګر که يو بل ګمراه کړي؛ نو د دغه ګمراه شوي سړي د ګناه بار هم د دغه ګمراه او هم د هغه ګمراه کوونکي په غاړه لويږي» (موضح) لکه چې په حديث کې راغلي دي: «هر څوک چې په دنيا کې (ناحقه) وينه تويه کړي؛ د ده د ګناه برخه د آدم عليه السلام رومبني ځوی «قابيل» ته هم رسيږي، چې هغه اول ځلي دغه خرابه لاره ايستلې ده».

وَلَيُسْأَلُنَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَمَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿١٣﴾

او خامخا وبه پوښتېدلی شي دوی هرومرو په ورځ د قيامت کې له هغو (دروغو) چې وو دوی چې له ځانه به يې جوړول (په الله، په رسول الله).

تفسير: يعني دوی د دروغو خبرې جوړوي، چې مونږ به ستاسې بار پر خپلو اوږو آخلو، دغه بالذات يوه مستقله ګناه ده، پر دغه همدوی مأخوذ يږي.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا

او خامخا په تحقيق لېږلی وو مونږ نوح قوم د ده ته، پس مدّت يې تېر کړ په دوی کې زر کاله (لپاره د تبليغ او دعوت حق ته) مګر پنځوس کاله (کم له زرو نه).

تفسیر: له ابن عبّاس رضي الله تعالى عنه څخه منقول دي چې نوح علیه السلام په څلویښت کلنۍ کې مبعوث شو، نهه نیم سوه کاله په دعوت ـ تبلیغ ـ سعي او اصلاح کې مصروف او لګیا وو، بیا طوفان (څپان) راغی، له طوفانه وروسته (۶۰) کاله نور هم ژوندی پاتې وو، چې په دغه حساب سره د دوی ټول عمر (۱۰۵۰) کاله شو.

فَأَخَذَهُمُ الطُّوفَانُ وَهُمْ ظَالِمُونَ ﴿١٤﴾

(نو تکذیب یې وکړ) پس ونیول دوی طوفان (ډېرو اوبو نو غرق شول) حال دا چې دوی ظالمان وو (په سبب د کفر خپل).

تفسیر: یعنې کله چې دوی له ګناهونو او شرارتونو څخه لاس وانخیست؛ نو طوفان پرې نازل شو، چې په هغه وخت کې پرته له څو تنو مخصوصو نفوسو نور ټول سره ډوب او هلاک شول.

فَأَنجَيْنَاهُ وَأَصْحَابَ السَّفِينَةِ

پس نجات ورکړ مونږ ده ته (له عذابه د طوفان) او خاوندانو د بېړۍ (ته چې له ده سره وو).

تفسیر: هغه انسانان یا حیوانان چې پر دغې بېړۍ کې سواره وو، هغوی مو د نوح علیه السلام په ملګرتوب محفوظ او مأمون وساتل، د هود علیه السلام په سورت کې دغه قصه په تفصیل سره تېره شوې ده.

وَجَعَلْنَاهَا آيَةً لِّلْعَالَمِينَ ﴿١٥﴾

او وګرځوله مونږ دغه (بېړۍ یا قصه لویه) نښه (د قدرت او عبرت) عالمیانو ته.

تفسیر: وایي چې د نوح علیه السلام بېړۍ تر ډېرو مودو پورې د (جودي) پر غره ولاړه وه، څو د ګردو لیدونکو لپاره عبرت وي، نن ورځنۍ بېړۍ او جهازونه هم د هم هغې بېړۍ یوه نښه ده، چې د هغو د لیدلو څخه هم د نوح علیه السلام د سفینې یاد تازه کیږي، او د الله تعالى د قدرت یوه نمونه په نظر راځي، یا ښایي چې ترې داسې مراد وي چې: مونږ دغه قصه د همېشه لپاره د عبرت نښه ګرځولې ده.

وَإِبْرَاهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاتَّقُوهُ ۖ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٦﴾ إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ أَوْثَانًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا ۚ

او (یاده کړه قصه د) ابراهیم کله چې ویې ویل قوم خپل ته چې عبادت کوئ تاسې الله ته، او وویرېږئ له (عذابه د) ده، دغه (عبادت او ویره) غوره ده تاسې ته (له کُفره) که چېرې یئ تاسې چې پوهېږئ (په خیر او شر خپل). بېشکه همدا خبره ده چې عبادت کوئ تاسې غیر له الله د بُتانو او جوړوئ دروغ (له خپله ځانه چې معبودان یې بولئ).

تفسیر: یعنې له خپله ځانه په دروغو سره عقیدې جوړوئ، او د دروغو خیالاتو او اوهامو متابعت کوئ، لکه چې تاسې په خپلو لاسونو بُتان له تیږو (ګټو) ځنې توږئ او دروئ یې، او بیا هغه تاسې په دروغو سره خپل معبودان ګرځوئ.

إِنَّ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوا عِندَ اللَّهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوهُ وَاشْكُرُوا لَهُ ۖ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿١٧﴾

بېشكه هغه كسان چې عبادت يې كوئ تاسې بې له الله؛ نه دي مالكان دوى تاسې ته د رزق، پس طلب كړئ تاسې په نزد د الله رزق (چې قادر دى په رسولو د روزى)، او عبادت كوئ د هم هغه (الله يواځې)، او شكر وباسئ هم هغه (الله) ته (په نعمتونو د ده)، همدغه الله ته به بېرته بيولي كېږئ تاسې.

تفسير: يعنې تاسو چې د چا عبادت كوئ هيڅ قسم روزى تاسو ته نه شې دركولى، دا كار يواځى الله تعالى كوى نو د هغه عبادت وكړئ، او د هغه په نعمتونو شكر وباسئ هم هغه الله تعالى ته ستاسى ورتګ او رجوع ده.

وَإِنْ تُكَذِّبُوا فَقَدْ كَذَّبَ أُمَمٌ مِّن قَبْلِكُمْ ۖ وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿١٨﴾

او كه نسبت د دروغو وكړ تاسې (اى كفّارو رسُول ته)؛ نو په تحقيق نسبت د دروغو كړى وو (انبياوو خپلو ته) ډېرو قومونو پخوا له تاسې، او نشته پر رسول باندې مګر رسونه (د پيغام) ښكاره.

تفسير: يعنې (اى كفارو !) ستاسې له دغه دروغجن ګڼلو ځنې ماته هيڅ ضرر او نقصان نه رسيږي، زه په صافو الفاظو سره تبليغ، پند او نصيحت كوم، او خپله وظيفه او فريضه مې په دغه مورد كې په ښه ډول سره اداء كړېده، او د ښو او د بدو لارې او كندې مې ګردې تاسې ته درښوولې دي، كه سره له هغه يې تاسې نه منئ؛ البته تاسې به هم داسې نقصانونه وموميء، لكه چې پخوا له تاسې «عاديان» او «ثموديان» او نور په كې اخته او مبتلا شوي وو.

أَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللَّهُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١٩﴾

آيا نه وينې (دغه منكران له بعثه) چې څرنګه اول پيدا كوي الله دا خلق، بيا به يې دويم ځلي هم خلق كړي، بېشكه دغه (اعاده د مخلوق اول او دويم ځلي) پر الله آسانه ده.

تفسير: يعنې پخپلو ځانونو كې غور او دقّت وكړئ ! ړومبى تاسې بيخي نه وئ ! الله تعالى تاسې له عدم څخه وجود ته راوستئ، همداسې تاسې به وروسته له مرګه هم بيا ژوندي راپاڅوي.

شاه صاحب ليكي: «ړومبى خو مو ليدلى دى، وروستى هم پرې قياس كړئ» يعنې د الله تعالى په نزد خو هيڅ شى سخت او مشكل نه دى، مګر خبره ستاسې په پوهيدلو او باور كولو كې ده، هغه ذات چې يو شى يې بې له نمونې څخه اول ځلي پيدا كړى دى؛ دويم ځلي يې هم پيدا كولى شي، د نمونې د قائمېدلو څخه وروسته د يوه شي جوړول ښايي چې لا سهل او آسان وي.

قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللَّهُ يُنشِئُ النَّشْأَةَ الْآخِرَةَ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾ يُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ وَيَرْحَمُ مَن يَشَاءُ ۖ وَإِلَيْهِ تُقْلَبُونَ ﴿٢١﴾ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٢٢﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) چې وګرځئ تاسې په ځمكه كې پس وګورئ چې څرنګه يې شروع كړې دى پيدايښت (له نشتوالي څخه)، بيا به الله پيدا كړي پيدا كول وروستني هم (په آخرت كې په مثل د ړومبني پيدايښت په دنيا كې ځكه چې) بېشكه الله پر هر شي باندې ښه قادر دى (چې ځينې يې مبدا او اعاده ده). عذاب وركوي هر هغه چاته چې اراده وفرمايي (د تعذيب يې) او رحم كوي پر هغه چا چې اراده وفرمايي (د رحمت يې) او خاص هم دغه (الله) ته تاسې

بېرته بيولى كېږئ. او نه يئ تاسې (اى خلقو !) عاجزوونكي (د الله) په ځمكه كې او نه په اسمان كې (له عذاب خپله)، او نشته تاسې ته غير له الله هيڅ دوست (چې وساتي تاسې)، او نه هيڅ مددګار (چې ستاسې مرسته وكړي په دفع د عذاب كې).

تفسير: يعنې خپل ذات پرېږدئ ! د نورو اشياوو په پيدايښت كې هم غور او فكر وچلوئ ! او د الله تعالى په ځمكه او ملكونو كې وګرځئ ! او سترګې وغړوئ ! چې الله تعالى څرنګه مخلوقات پيدا كړي دي؟ پر هم دغو مخلوقاتو او موجوداتو هم هغه خپل بل ژوندون هم اتكل او قياس كړئ ! او پرې ښه وپوهېږئ ! چې د هغه قدرت خو اوس نه دى محدود شوى، نو همدغه الله تعالى تاسې دويم ځلي هم پيدا كوي، او بيا به سم له خپله حكمته او مصلحته سره سزا دركوي، او پر هر چا چې اراده وفرمايي؛ پخپل فضل ـ كرم او رحمت سره به خپل مهرباني مبذوله فرمايي، او د هر چا سزا وركولو ته چې الله تعالى اراده وفرمايي؛ هغه نه په دې سره له هغې سزا خلاصېدى شي، چې دى د ځمكې په سوريو كې ننوځي، يا اسمان ته والوځي، هيڅ يوه هسكه او ټيټه د الله تعالى مجرم ته د پناه ځاى نشي وركولى، او نه هيڅ زور، قوت او طاقت هغه مجرم ته څه امداد او معاونت رسولى شي، او نه ورسره څه مرسته او نه يې حمايت كولى شي.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ وَلِقَائِهِ أُولَٰئِكَ يَئِسُوا مِن رَّحْمَتِي وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٣﴾
فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا اقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ

اوهغه كسان چې كافران شوي دي په آيتونو د الله او په ملاقات د دغه (الله)؛ دغه كسان نااميده دي له رحمت ځما، او دغه كسان مقرر دى دوى ته عذاب ډېر دردناك. پس نه وو ځواب د قوم د دغه (ابراهيم) مګر دا وو؛ چې وويل دوى: ووژنئ تاسې دغه (ابراهيم) يا وسوځوئ ده لره.

تفسير: يعنې هغه كسان چې د الله تعالى له خيره ځخه انكار كوي، او د الله تعالى سره د مخامخ كېدلو اميد نه لري؛ نو هغوى به څرنګه د الله تعالى د رحمت څخه اميد كولى شي، ځكه چې دوى په بعث بعد الموت قائل نه دي، لهذا دوى به په آخرت كې هم محروم او مأيوس پاتې كېږى، او دغه د ﴿مَن كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ اللَّهِ فَإِنَّ أَجَلَ اللَّهِ لَآتٍ﴾ عكس شو.

يعنې د ابراهيم عليه السلام د تمامو معقولو خبرو او دلائلو او براهينو د اوربدلو څخه كله چې د ده قوم له ځواب څخه عاجز شو؛ نو د قوّت د استعمال لپاره يې لاس وغځول، پخپلو منځونو كې يې سره جرګه او مشوره وكړه، چې ښايي دى ووژلى شي، او يو ځلي دغه شورماشور آرام كړي، يا په اور كې وسوځولى شي، څو يې د ربړ او تكليف له احساسولو څخه له خپله دغو خبرو واوړي، كه ده له خپلو دغو خبرو څخه توبه وويسته؛ نو نه به يې سوځوو، كه نه په اور كې به يې وغورځوو چې د ايرو يوه ډېرى تري جوړه شي.

فَأَنجَاهُ اللَّهُ مِنَ النَّارِ

پس نجات وركړ دغه (ابراهيم ته) الله له (ضرره د) اوره.

تفسير: يعنې د دوى د مشورو او جرګو په اثر ابراهيم عليه السلام په اور كې وغورځول شو، مګر الله تعالى اور پرې ګلزار كړ، لكه چې د «الأنبياء» په سورت كې يې قصه مفصّلا تېره شوه.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٤﴾

بېشكه په دغه (نجات د ابراهيم له اوره) كې خامخا ډېر دلائل (د قدرت) دي لپاره د هغه قوم چې ايمان يې راوړى دى.

تفسير: يعني دغې واقعې دا راښكاره او جوته کړه چې الله تعالى خپلو صادقو بندګانو ته څرنګه نجات ورکوي؟ او د حق مخالفان څرنګ خائب، خاسر او ناامیده کوي؟ دا هم راڅرګنده شوه چې د هر شي تأثير د الله جل جلاله له حکمه دی، کله چې د الله جلّ جلاله حکم نه وي؛ نو د اور په شان یو شی هم یو څیز نشي سوځولی.

وَقَالَ إِنَّمَا اتَّخَذْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ أَوْثَانًا مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ

او ویل (ابراهیم خپل قوم ته) بېشکه همدا خبره ده چې نیولي دي تاسې غیر له الله بُتان (په الوهیت سره) لپاره د دوستۍ په منځ ستاسې کې په دغه ژوندون لږ خسیس کې.

تفسير: يعني كله چې ابراهيم عليه السلام له اوره څخه صحيح او سلامت ووت؛ نو بيا يې خپل قوم ته دغسې نصيحت وکړ چې: «کوم يو عقلمن سړی بت پرستي ته نه او جايزه ويلی شي؟ بُت پرستان هم په خپلو زړونو کې په دې باندې ډېر نه پوهيږي چې دغه حرکت نهايت مهمل حرکت دی، مګر د قومي ښېرازۍ د جمع ساتلو لپاره دوی داسې يو مذهب ځان ته ټاکلی (مقرر کړی) دی چې د هغه پر نامه ټول قوم سره متّحد او متفق وي، او يو له بل سره دوستان شي، لکه چې نن ورځ مونږ د اوروپا د عيسايي اقوامو احوال ګورو، يا دا مطلب چې د بت پرستۍ شيوع او رواج په دغه نه دی بناء شوی چې هغه کوم معقول څيز دی، بلکه د ډېرو تقليد، د قومي مروت او لحاظ او د ذات البيني تعلّقاتو تأثيرات د هغه لوی سبب دی، يا يې دا غرض دی چې د بُت پرستۍ اصلي اساس د ذات البيني محبت دوستي ده، د يوه قوم هغه څه نېک سړي چې د خلقو په نزد به محبوب وو، څه وخت چې انتقال يې وکړ، خلقو به د ډېرې مينې د دوی تصاوير جوړول، او د يادګار په ډول به يې ساتل، بيا به يې متدرّجا د دغو تصويرونو په تعظيم شروع کوله، همدغه تعظيم به ورو ورو پسې زياتېده، او د عبادت شکل به يې ځان ته اخيست، دغه ګرد احتمالات په دغه آيت کې د مفسّرينو له طرفه بيان کړی شوي دي، او ممکن دي له ﴿مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ﴾ څخه د بت پرستانو هغه محبت مراد وي، چې دوی يې له خپلو بتانو سره لري، لکه چې په بل ځای کې يې ﴿أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ﴾ فرمايلي دي، والله أعلم.

ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُم بِبَعْضٍ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُم بَعْضًا ۖ

بيا په ورځ د قيامت کې بېزاره (منکر) به شي ځينې ستاسې (چې متبوعان دي) له ځينو نورو څخه (چې تابعان دي)، او لعنت به وايي ځينې د تاسې (چې تابعان دي) پر ځينو نورو (چې متبوعان دي).

تفسير: يعني دغه ګردې اوسنۍ دوستۍ او محبت د څو ورځو له مخې دی، د قيامت په ورځ کې به يو د بل سره دښمنان شي ! او ځينې به پر ځينو نورو لعنت وايي.

وَمَأْوَاكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّاصِرِينَ ﴿٢٥﴾

او ځای د هستوګنې ستاسې اور دی، او نه به وي تاسې ته (په قيامت کې) هيڅوک له مدد ګارانو.

تفسير: چې له عذاب نه مو خلاص کړي ای نمرودیانو ! او د دوزخ له اوره تاسې ته نجات درکړي، لکه چې ځما رب ماته ستاسې له دغه اوره نجات راکړ.

فَـَٔامَنَ لَهُۥ لُوطٞۘ وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٢٦

پس ايمان راوړ دغه (ابراهيم) ته لوط، او وويل (ابراهيم) چې بېشكه زه هجرت كوونكى يم (له قوم خپله) رب ځما، ته بېشكه چې دى هم دى نښه غالب قوي دى (په انفاذ د احكامو) نښه حكمت والا (چې هر كار په تدبير او مصلحت سره كوي).

تفسير: لوط عليه السلام د ابراهيم عليه السلام وراره وو، د ابراهيم عليه السلام له قوم څخې هيڅا دى ونه مانه، يواځې لوط عليه السلام بلا توقّف د دوى تصديق وكړ، د دوى دواړو وطن په «عراق» كې د «بابل» ښار وو، دوى د الله تعالى په توكّل له خپله وطنه ووتل، الله تعالى دوى د شام ملك ته ورسول، او هلته يې د هستوګنې وسائل ورمهيأ كړل.

تنبيه: په ﴿وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ﴾ الآية ـ كې دواړه احتمال شته چې قائل يې ابراهيم وي يا لوط عليهما السلام.

وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَجَعَلۡنَا فِي ذُرِّيَّتِهِ ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلۡكِتَٰبَ وَءَاتَيۡنَٰهُ أَجۡرَهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٢٧

او وبانښه مونږ دغه (ابراهيم) ته (ځوى) اسحاق او (لمسى) يعقوب، او ګرځولى وو مونږ په اولاده د دغه (ابراهيم) كې نبوّت او كتاب (لكه تورات، انجيل، زبور او قرآن)، او ورکړى وو مونږ دغه (ابراهيم) ته اجر د ده په دنيا كې، او بېشكه دى په آخرت كې خامخا له (معتبرو) صالحانو څخه دى.

تفسير: اسحاق عليه السلام ځوى او يعقوب عليه السلام لمسى يې ورعنايت كړ، چې د دوى اولادې ته بني اسرائيل وايي، او د ابراهيم عليه السلام نه وروسته ماسوا د ده د اولادې څخه بل هيڅا ته اسماني كتاب او نبوّت نه ورکاوه كيږي، لكه هومره انبياء چې مبعوث شوي دي د همدغه ابراهيم عليه السلام له ذريّاتو څخه دي، ځكه دوى ته «أبو الأنبياء» هم ويلى كيږي، او الله تعالى په دنيا كې ده ته مال، اولاد، عزّت او د تل لپاره نښه نوم ورکړ، او د شام ملك يې د همېشه لپاره ده ته او د ده اولادې ته وروبانښه «كذا في الموضح»، او په آخرت كې يې د صالحينو په اعلى درجه كې چې د اولو العزمو انبياوو جماعت دى؛ شامل كړه.

وَلُوطًا إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦٓ إِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلۡفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنۡ أَحَدٖ مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٨

او ياد كړه (اى محمده ! قصه د) لوط كله چې ويې ويل قوم خپل ته چې: بېشكه تاسې خامخا راځئ ناكاره كار (د لواطت) ته چې نه دي ړومبى شوي پر تاسې (په دغه قبيح كار كې) هيڅوك له (تېرو) عالميانو (چې انس او جن دى).

تفسير: يعنې دغه شنيع فعل هيڅا پخوا له تاسې نه دى كړى، همدا د دغې خبرې دليل دى چې انساني فطرت له هغه څخه منفور دى، د داسې خلاف الفطرت او خلاف الشريعت كار اساس تاسې ايښى دى.

أَئِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلرِّجَالَ وَتَقۡطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ وَتَأۡتُونَ فِي نَادِيكُمُ ٱلۡمُنكَرَۖ

آيا تاسې خامخا راځئ سړيو ته (د لواطت لپاره)، او قطع كوئ (شكوئ) لاره (او د خلقو مال اخلئ).

تفسير: له لارې وهلو ځنې مراد ممکن دي چې داړه ماري وي، چې دغه کار به هم په دوی کې رواج درلود (لرلو)، يا په دغه بدکاري سره به يې د مسافرانو لارې وهلې، چې هغوی د خپل عفّت او عصمت له وړې د هغې لارې په لوري نه راتلل، يا به د ﴿وَتَقْطَعُونَ السَّبِيلَ﴾ مطلب داسې وي، چې تاسې فطري او معتاده لاره پرې ايښې، او د توالد او تناسل لاره مو منقطع کړې ده.

وَتَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ الْمُنكَرَ

او راځئ تاسې په مجلسونو خپلو کې منکرو ناکارو کارونو ته.

تفسير: ښايي چې دغه بدکاري به يې په علانيه او ډانګ پيلې (ښکاره) د نورو خلقو په مخ کې کوله، او له سره به له خپلو دغو بدو اعمالو څخه نه شرمېدل، يا برسېره په هغه نور څه تمسخر او استهزاء او لاس اچول او د بې شرمۍ خبرې يې هم کولې.

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا ائْتِنَا بِعَذَابِ اللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٢٩﴾

پس نه وو ځواب د قوم د دغه (لوط ده ته بل شی) مګر دا چې ويل به (دغو لواطت کارانو) چې راوړه مونږ ته عذاب د الله که چېرې يې ته (ای لوطه !) له صادقينو رښتيا ويونکيو (چې ځمونږ کارونه بد دي).

تفسير: يعنې که ته په رښتيا سره نبي يې، او په واقع سره رښتيا خبره وايې چې دغه کار خراب او مستوجب د عذاب دی؛ نو دغه ځنډ (تأخير) او ډيل د څه لپاره دی؟ ژر هغه عذاب مونږ ته راوغواړه، د «الأعراف» سورت په (١٠) رکوع (٨٢) آيت کې يې داسې فرمايلي دي: ﴿وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ﴾.

يعنې د لوط عليه السلام د قوم جواب همدغه وو، چې د لوط کورنۍ له خپل کلي څخه وشړئ ! چې دوی غواړي خپل ځانونه پاک وساتي، ښايي د قوم ځينو افرادو به داسې ويلي وي، او ځينو به هغسې ويلي وي، يا به يې په يوه وخت کې داسې ويلي وي، او په بل وخت کې به يې هسې ويلي وي.

قَالَ رَبِّ انصُرْنِي عَلَى الْقَوْمِ الْمُفْسِدِينَ ﴿٣٠﴾

وويل (لوط) ای ربه ځما ! مدد وکړه له ما سره (په لېرلو د عذاب) پر دغه قوم مفسدانو (په پيدا کولو د ناکاره خصلت په عالم کې).

تفسير: دغه يې وروسته له هغه چې له هغوی څخه ناامېده او مأيوس شو؛ وفرمايل، ښايي لوط عليه السلام به په دې پوهېدلې وي چې د دوی راتلونکی نسل به هم د عدل او اصلاح په لاره سمېدونکی نه وي، او هغوی به هم د همدغو خپلو پلرونو په لاره روان وي، لکه چې نوح عليه السلام فرمايلي وو: ﴿إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا﴾ (د «نوح» سورت (٢) رکوع (٢٧) آيت (٢٩) جزء)، كذا قال النيشاپوري في تفسيره.

وَلَمَّا جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَىٰ قَالُوا إِنَّا مُهْلِكُو أَهْلِ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ إِنَّ أَهْلَهَا كَانُوا ظَالِمِينَ ﴿٣١﴾

او کله چې راغلل رسولان (ليرلي) ځمونږ ابراهيم ته په زيري (د ځوی او لمسي د ده)؛ نو وويل (دغو ملائکو): بېشکه مونږ هلاک کوونکي يو د اهل د دغه کلي (او ښار د لوط)، بېشکه چې اهل د دغو ځايونو وو دوی ظالمان (په سبب د کفر او منکراتو).

تفسير: د لوط عليه السلام د دعاء په اثر پرښتو ته حکم وشو چې دغه ګرد کلي سره وران او تباه کړئ ! دغه پرښتې رومبی د ابراهيم عليه السلام کره راغللې، او په زوړوالي کې يې ورته د ځوی او لمسي بشارت ورکړ، او هغه يې مطلع کړ چې مونږ د دغو کليو (سدوم) ورانولو ته هم راغلي يو، او دغه دی هلته ورځو، ځکه چې د دغو کليو هستېدونکي په هيڅ ډول سره له خپلو شنيعو حرکاتو څخه بېرته نه آوړي، د دغو واقعاتو تفصيل د اعراف ـ هود ـ او حجر په سورتونو کې پخوا تېر شوی دی.

قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا ۚ قَالُوا نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَنْ فِيهَا ۖ لَنُنَجِّيَنَّهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ ﴿٣٢﴾

وويل (ابراهيم ملائکو ته) چې: بېشکه په هغه ښار کې لوط (هم) دی، وويل دغو ملائکو: مونږ ښه پوه يو په هر هغه چا چې په دغه ښار کې دي، خامخا به مونږ نجات ورکړو هرومرو (خامخا) هم ده ته او هم کورنۍ د ده ته، مګر ښځه د ده، چې ده هغه له پاتې کېدونکيو (په عذاب کې).

تفسير: يعنې آيا سره د لوط عليه السلام د موجوديت هغه کلی ورانوئ؟ يا هغوی به له هغه ځايه راوباسئ؟ او بيا د تعذيب په عملياتو لاس پورې کوئ؟ غالبًا ابراهيم عليه السلام ته به د شفقت له سببه دغه خيال پيدا شوی وي، که د لوط عليه السلام تر سترګو لاندې دغه آفت او عذاب نازل شي؛ نو د تعجّب ځای نه دی چې د عذاب د دغه هولناکو مناظرو د ليدلو ځنې څه خوف او وحشت او وېره ور پيدا نشي، ځکه چې پرښتې په خپل کلام کې څه استثناء نه وه کړې، چې د هغه لامله د دوی په ذهن کې به هم دغه شک راغلی وی، چې د لوط عليه السلام په موجوديت کې به دغه تخريبي عمليات شروع کېږي، والله أعلم.

پرښتو دوی ته اطمينان ورکړ، چې مونږ ټول په دې باندې خبردار يو چې څوک څوک هلته اوسېږي؟ او کوم کوم يې د الله تعالى مجرمان دي؟ يوائې لوط عليه السلام په هغوی کې پاک او صاف دی، نو ځکه نه لوط عليه السلام ته او نه د ده نورې کورنۍ ته څه ربړ او تکليف ور متوجه کېږي، بلکه ټول سره روغ رمټ، صحيح، سالم نجات مومي، او د عذاب له منطقې ځخه لرې کېږي، يوائې د لوط عليه السلام ښځه هم هغلته پاتې کېږي، ځکه چې هغه په معذّبينو کې شامله او عذاب پر هغې هم نازلېدونکی دی.

وَلَمَّا أَنْ جَاءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا

او کله چې راغلل رسولان ځمونږ لوط ته؛ نو خپه شو (لوط) په (سبب د) دوی، او تنګ شو په دوی له جهته د زړه (چې منکران به يې راځخه بوځي).

تفسير: دغه پرښتې د ډېرو حسينو او جميلو او ښکلو هلکانو په شکل او د امردانو په شکل هلته ورسېدې، لوط عليه السلام رومبی دوی ونه پېژندلې؛ نو ځکه د دوی د ليدلو څخه ډېر خپه او غمجن او لړمون خوړين شو، چې اوس به زه د دغو مېلمنو عزت او احترام د خپل قوم له لاسه ځرنګه وساتلی شم، که دوی پخپل کور کې ونه ساتم؛ نو دغه وضعيت د اخلاق، مروت او د مېلمه پالنې له اصولو څخه منافات لري، او که يې ساتم؛ نو د دوی پت، عزت او ناموس به د دغو بدکارانو څخه ځرنګه وساتلی شم.

وَقَالُوا لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ ۖ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهْلَكَ إِلَّا امْرَأَتَكَ كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ ﴿٣٣﴾
إِنَّا مُنْزِلُونَ عَلَىٰ أَهْلِ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ رِجْزًا مِنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿٣٤﴾

او وويل دغو (ملائكو لوط ته) مه ويرہ ! او مه خپه كړه ! بېشكه مونږ نجات دركوونكي يو تا ته او اهل ستا ته (اى لوطه ! له عذابه) مګر ښځه ستا ده هغه له پاتې كېدونكيو (په دغه عذاب كې). بېشكه مونږ نازلوونكي يو پر اهل د دې قريې (ښار د سدوم) باندې عذاب له اسمانه (چې د ګټو ورول دي) په سبب د دې چې وو دوى چې فسق او بدكاري به يې كوله.

تفسير: يعنې د خپل قوم له شرارته ځخه له سره مه ويرېږئ، ځكه دوى ځمونږ په نسبت هيڅ نشي كولى، او ځمونږ د ساتنې لامله تاسې هرګز مه غمجن كېږئ، ځكه چې مونږ انسانان نه بلكه پرښتې يو، چې ستا او ستا د ملګريو دنجات لپاره او د دغو مفسدانو اهلاك او افناء ته راغلي يو، دغه قصه پخوا له دې په څو ځايونو كې تېره شوې ده.

وَلَقَد تَّرَكْنَا مِنْهَآ اٰيَةًۢ بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿٣٥﴾

او خامخا په تحقيق پرېښوده مونږ له هغې (قريې ښار) يوه نښه ښكاره لپاره د هغه قوم چې عقل لري (او عبرت پرې اخلي).

تفسير: يعنې د دوى د منقلبو او الټه شويو كليو آثار او نښې مكيّان د شام او مكّې پر لاره له لرې ويني.

وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۙ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَارْجُوا الْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَلَا تَعْثَوْا فِى الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿٣٦﴾

او (لېږلى مو وو اهل د) مدين ته ورور د دوى شُعيب، پس وويل (دغه شُعيب): اى قومه ځما ! عبادت كوئ (يواځې) د الله، او اميد لرئ د ورځې وروستنئ (او وويرېږئ له عذابه يې) يعنې د آخرت له طرفه مه غافلېږئ، او د واحد الله تعالى بې له شريكه عبادت كوئ، او مه ګرځئ تاسې په ځمكه (د مدين) كې په دغه حال كې چې فساد كوونكي يئ !.

تفسير: د فساد او خرابۍ اچولو ځخه مراد په معاملاتو او راكړه او وركړه كې چل، فريب او دغابازي ده، چې سود سوايي او غير مشروعه ګټې خوړل د دوى عادت وو، او امكان لري چې غلا او د لارو شكونه به يې هم كوله، وقيل غير ذلك.

فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِىْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿٣٧﴾ وَعَادًا وَّثَمُوْدَا۠ وَقَدْ تَّبَيَّنَ لَكُمْ مِّنْ مَّسٰكِنِهِمْ ۖ

پس دروغجن وباله دوى دغه (شُعيب) پس ونيول دوى لره سختې زلزلې (يا چغې د جبريل) پس سبا كړ دوى په كورونو خپلو كې (مړه) پرمخې پراته نسكور پر ځنګنونو. او (هلاك كړى مو وو قوم د) عاد او ثمود، او په تحقيق ښكاره شوي دي تاسې ته (اهلاك) له كورونو د دوى (چې ورانې كنډوالې يې پرتې دي).

تفسير: يعنې د دوى د كليو كنډوالې او ويجاړې او ورانې شوې ودانۍ تاسې ليدلي دي، ښايي چې له هغو ځخه پند او عبرت واخلئ !.

وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَكَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ ﴿٣٨﴾

او ښايسته كړي وو دوى ته شيطان عملونه د دوى، پس اړولي وو (دغه شيطان) دوى له لارې د حق (چې د خپلو انبياوو متابعت يې ونه كړ)، او وو دوى بينايان (هوښياران).

تفسير: يعنې د دنيا په کارونو کې پوه او هوښيار وو، او په خپل زعم او اټکل کې پوهان او عاقلان وو، مګر سره له هغه د شيطان د تېرايستلو او غولولو څخه يې نجات ونه موند.

وَقَٰرُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ ۖ وَلَقَدْ جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِالْبَيِّنَٰتِ فَاسْتَكْبَرُوا۟ فِى الْأَرْضِ وَمَا كَانُوا۟ سَٰبِقِينَ ﴿٣٩﴾

او (هلاک کړي مو وو) قارون او فرعون او (وزير يې) هامان، او خامخا په تحقيق راغلى وو دوى ته موسى په معجزاتو ښکاره وو سره، پس تکبّر وکړ دوى په ځمکه (د مصر) کې، او نه وو دوى رومبى کيدونکي (له حکم او عذابه ځمونږ).

تفسير: يعنې سره له دې نه چې د قدرت ښکاره معجزات يې وليده، بيا هم د الله تعالى په مخ کې يې خپله غاړه کښېنښوده، او له کبره او غروره او لويي څخه لږ څه هم راښکته نشول.

بالآخره نتيجه يې څه شوه؟ آيا دوى د خپلې دغې لويي او مشرتوب له سببه له عذابه څخه نجات وموند، يا «العياذ بالله» الله تعالى يې پخپلو عذابونو کې ستړى او ستومان کړ؟.

فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنۢبِهِۦ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا ۚ وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ ۚ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ ۚ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا ۚ

پس هر يو له دغو مذکورينو ونيول مونږ په (سبب) د ګناه خپلې يې، پس ځينې د دوى هغه څوک دي چې ولېږل مونږ پرې سخت (کانې ورروونکى) باد، او ځينې له دوى هغه څوک دي چې ونيول دوى چغې (چې زړونه يې وچاودل)، او ځينې له دوى هغه څوک دي چې ښکته ننه ايست مونږ دوى په ځمکه کې، او ځينې له دوى هغه څوک دي چې غرق کړل مونږ دوى (په اوبو کې).

تفسير: يعنې له دوى ځنې هر يوه ته سم د دوى له جرمه سزا ورکړه شوه، پس ځينې د دوى هغه څوک دي چې ولېږل مونږ پرې سخت کانې ورروونکى باد، دغه د لوط عليه السلام قوم دى، ځينو عاديان هم په دوى کې داخل کړي دي، او ځينې له دوى هغه څوک دي چې ونيوه دوى چغې او زړه يې وچاود، دغه ثموديان وو او اهل المدين ورسره، او ځينې له دوى هغه څوک دي چې راپورته کړه مونږ ځمکه پر دوى باندې، او په کې ډوب مو کړ، يعنې قارون لکه چې د «القصص» په سورت کې تېر شو، او ځينې له دوى هغه څوک دي چې غرق کړل مونږ دوى په اوبو کې، دغه فرعون او هامان او قبطيان دي، او ځينو د نوح عليه السلام قوم هم په دوى کې داخل کړى دى.

وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٤٠﴾

او نه وو الله چې ظلم يې کړى وى پر هغو، وليکن وو دوى پر ځانونو خپلو به يې ظلم کاوه (په کفر او معصيت سره).

تفسير: يعنې د الله تعالى شان داسې نه دى، چې کوم کار مخالف له عدله او انصافه يا بې موقعه وکړي، د الله تعالى لوى دربار له ګردو عيوبو او نقائصو او معايبو څخه په کلي ډول سره مبرأ او منزّه دى، ظلم خو هلته له سره متصور نه دى، هو ! پخپله بندګان پر خپلو ځانونو ظلم او تېرى کوي، يعنې داسې اعمال ترې صادريږي، چې د هغو نتيجه لامحاله د دوى په حق کې بده او خرابه ده.

مَثَلُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ كَمَثَلِ الْعَنكَبُوتِ ۖ اتَّخَذَتْ بَيْتًا ۖ وَإِنَّ أَوْهَنَ الْبُيُوتِ لَبَيْتُ الْعَنكَبُوتِ ۖ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾

مثل حال د هغو کسانو چې نیولي دي دوی بې له الله دوستان (معبودان) لکه مثل حال د عنکبوت غټې جولاګي داسې دی چې ونیسي (جوړ کړي) یو کور (له تارونو خپلو)، او بېشکه ډېر ضعیف د ټولو کورونو خامخا کور د غټې دی، که چېرې وئ دوی چې پوهېدلی (نو د غیر الله عبادت به یې نه کاوه).

تفسیر: یعنې کور د دې لپاره وي چې د انسانانو ځان او مال په هغه کې محفوظ، مصئون او مأمون وي، نو د غټې (جولاګي) ځالې ته هیڅوک کور نشي ویلی، چې په ادنی یوه اهتزاز او خوځولو سره شکېږي، همدغه مثال د هغو کسانو دی چې ماسوا له الله ځنې نور کسان د خپلو ځانونو لپاره معبودان نیسي، او هغوی د خپلو ځانونو لپاره نجات ورکوونکي محافظان ګڼي، حال دا چې بې د الله تعالی د ارادې او مشیته هیڅ یو فلاح او نجاح خارجي صورت نشي موندلی.

إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِ مِن شَيْءٍ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٤٢﴾

بېشکه چې الله ته معلوم دي هر هغه چې بولي یې (عبادت یې کوي) دوی غیر له الله له هر څیزه چې وي، او همدی دی ډېر غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ډېر حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

تفسیر: یعنې ممکن وو چې اوریدونکي تعجّب وکړي چې ګرد معبودان یې څرنګه په یوه ځنځیر کې سره وترل، او هیڅ یو یې د دوی له منځه جلا او مستثنی ونه فرمایه، ځینې بُتانو ته، ځینې اور ته، ځینې اوبو ته، ځینې باد ته، ځینې لمر او ستوریو ته، ځینې انبیاء یا پرښتو ته عبادت کوي، نو الله تعالی فرمایي چې: پاک الله ته دغه ګرد شیان معلوم او عیان دي، که د دوی له منځه یو تن هم د مستقل قدرت، قوّت او اختیار خاوند وی؛ نو الله تعالی د دغو ګردو (ټولو) نفي نه کوله، الله تعالی د هیچا رفاقت او ملګرتوب ته ضرورت نه لري، ځکه چې ډېر زبردست زورور ذات دی، له سره جرګو او مشورو ته حاجت نه لري، ولې چې مطلق حکیم دی.

وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۖ وَمَا يَعْقِلُهَا إِلَّا الْعَالِمُونَ ﴿٤٣﴾

او دغه مذکوره مثالونه (په قرآن کې) بیانوو مونږ لپاره د خلقو، او نه پوهیږي پر دغو (مثالونو) مګر هغه پوهندګان (چې ښه د خبرې راسپړي).

تفسیر: یعنې د مکې معظمې مشرکینو به ویل چې: الله تعالی د غټې جولاګي او د مچانو او د نورو حقیرو او سپکو شیانو مثالونه بیان فرمایي، چې د ده له عظمته سره منافي دي؛ نو د دغه جواب ورکوي چې دغسې مثالونه د خپل موقع په لحاظ نهایت موزون او پر «ممثل له» په پوره ډول سره منطبق کیږي، مګر د داسې مثالونو پر مطلب یوائې پوهان په ښه ډول سره پوهیږي، جاهلان او ناپوهان او بې وقوفان کله پرې پوهېدی شي؟ د مثال انطباق د مثال ورکوونکي پر حیثیت نه ښایي چې وکړی شي، بلکه د هر هغه شي مثال چې ورکړی شوی دی؛ ښایي د هم هغه حیثیت ته وکتلی شي، که هغه حقیر او کمزور وي؛ نو ښایي چې تمثیل یې هم هغسې له حقیرو او کمزورو شیانو څخه وي، د مثال ورکوونکي عظمت له ده سره بیخي ارتباط او تعلّق نه لري.

خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ

پيدا کړي دي الله اسمانونه او ځمکه په حق سره (څرنګه چې مناسب وو).

تفسير: يعنې په نهايت حکمت سره يې جوړ کړ، او بېکاره يې نه دي جوړ کړي.

اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لِّلْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۴۴﴾

بېشکه په دغه (تخليق يا تمثيل) کې خامخا لوی دليل (د قدرت) دی لپاره د مؤمنانو (چې همدوی پرې نفع اخلي).

تفسير: يعنې کله چې الله تعالی اسمانونه او ځمکې يواځې جوړ کړي دي؛ نو په نورو وړوکيو وړوکيو کارونو کې به دی کله شريک، ملګري يا مددګار ته څه احتياج لري؟ (معاذ الله) که ورته ضرورت وی؛ نو په هغو لويو لويو کارونو کې به وی.

اُتْلُ مَاۤ اُوْحِیَ اِلَیْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰی عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَذِكْرُ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ وَاللّٰهُ یَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ ﴿۴۵﴾

ولوله (ای محمده !) هغه چې وحي کړی شوې ده تاته له کتاب نه، او قائموه (سم اداء کوه سره له ټولو حقوقو) لمونځ، بېشکه لمونځ منع کوي (لمونځ کوونکي) له بې حيايۍ او له بدکار څخه، او خامخا يادول د الله ډېر لوی دي، او الله ته معلوم دي هر هغه چې کوئ يې تاسې.

تفسير: يعنې د لوی قرآن تل تلاوت کوه ! څو چې زړه دې مضبوط او قوي شي، او د تلاوت اجر او ثواب ښه در په برخه شي، د لمانځه په سبب د بديو نه منع کېدل دوه معنی ګاڼي لري: يوه د تسبّب په طريقه، يعنې الله تعالی په لمانځه کې داسې خاصيت او تأثير ايښی دی، چې لمونځ کوونکی له ګناهونو او بديو څخه ساتي، لکه چې د کومې دوا استعمال تبه او نور امراض له سړي شکوي، او نه يې پرېږدي چې پرې راشي، په دغه صورت کې ښايي په ياد يې ولرئ چې د دوا لپاره دغه امر ضرور نه دی، چې هغه يواځې يو خوراک د ناروغتيا د لرې کولو لپاره کافي شي، ځينې دواګانې په خاص مقدار سره تر يوې مودې پورې په لازمي ډول خوړل کيږي، نو وروسته بيا دوا خپل تأثير ښکاره کوي، مشروط په دې چې رنځور کوم داسې شی استعمال نه کړي چې د دې دوا له خاصيت سره منافي وي.

بله معنی يې داسې کېدی شي چې له بديو ځنې د لمانځه په برکت منع کېدل ښايي د اقتضاء په ډول وي، يعنې د لمانځه هر يو هيئت او د ده د هر يو ذکر مقتضي دی، هغه انسان چې همدا اوس د الله تعالی په دربار کې د خپل عُبوديت، اطاعت، خُشوع، خضوع او تذلّل او د الله تعالی د الوهيت، ربوبيت، مالک الملکوتيت اظهار او اقرار کړی دی؛ نو اوس له لمانځه وروسته او له مسجد نه د باندې دې هم په هم هغه خپل عهد او پيمان باندې ټينګ ولاړ وي، او بد عهدي او شرارت دې نه کوي، او د هغه لوی ذات له احکامو څخه دې منحرف نشي، ګواکې د لمانځه هره يوه اداء، لمونځ کوونکي ته په پنځو وختونو کې داسې حکم ورکوي چې: ای د عبوديت او بندګۍ مدعي ! تاته ښايي چې په ژښتيا سره د عابدانو او د الله تعالی د خاصو بندګانو په شان اعمال او افعال ولرئ ! ځکه چې لمونځ د حال په ژبه سره له تانه غواړي چې د شرارت او سرکشی او بې حيايۍ څخه په ځنګ شه !.

هو ! دغه دې واضح وي چې د هر لمانځه د نهي او منع کولو درجه به هم هغومره وي، چې د هغه په اداء کولو کې د الله تعالی له ياده لمونځ کوونکی غافل نه وي، ځکه چې لمونځ تش د څو ځلې پاڅېدلو او کښاستلو نوم نه دی، له

ټولو څخه لوی شی په لمانځه کې دا دی چې د الله تعالی قدرت، عظمت، کمال او جلال مستحضر وي، او خپله ژبه او زړه سره موافق وي، هغومره به د ده زړه د لمانځه د منع کولو غږ اوري، او په هم هغه اندازه دغسې لمونځ د منهیاتو په مخنیوي کې مؤثر ثابتیږي.

﴿وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ﴾ «او خامخا ذکر یادول د الله تعالی ډېر لوی دي»، یعنې لمونځ به له بدیو څخې ولې انسان نه منع کوي؛ کله چې هغه د الله تعالی د یادولو ډېر ښه صورت دی، لکه چې الله تعالی وایي: ﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾ د طه سورت اوله رکوع»، او د الله تعالی یاد ډېر لوی شی دی، دغه د الله تعالی ذکر هغه مقدّس شی دی، چې هغه ته د لمانځه جهاد او د ګردو عباداتو روح ویلی شو، که د الله تعالی ذکر نه وي؛ نو عبادت به څه وی؟ یو بې روحه جسد او بې معنی لفظ به وی، د ابوالدرداء رضي الله تعالی عنه او د نورو احادیثو په لحاظ عالمانو هم دغسې فیصله کړېده چې له ذکر الله (د الله تعالی یاد) څخه بل کوم لوی عبادت نشته، اصلي فضیلت هم ده لره دی.

بنده لره ښایي چې هیڅ وخت د الله تعالی له ذکر او فکر نه غافل نشي، بالخاصه په کوم وخت کې چې کومې بدۍ ته یې میلان پیدا شي؛ نو فورا ښایي د الله تعالی عظمت او جلال وریاد کړي، او له هغې منع شي، په قرآن او حدیث کې راغلي دي: څه وخت چې بنده خپل الله یادوي؛ نو الله تعالی هم دی یادوي.

وَلَا تُجَادِلُوا أَهْلَ الْكِتَابِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِلَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ

او جګړه مه کوئ تاسې (ای مؤمنانو) له کتابیانو سره مګر په هغه (خصلت) سره چې هغه ډېر ښه وي، مګر هغه کسان چې ظلم یې وکړ له دوی څخې (نو ورسره په توری مجادله کوئ).

تفسیر: یعنې د مشرکانو دین له اساسه غلطه دی، د کتابیانو دین اصلاً حق او رښتیا وو، نو له کتابیانو سره د مشرکانو په شان جګړه مه کوئ ! چې له ببخه د هغوی خبرې باطلې او پرې کړئ، بلکه په نرمی، صبر او تحمّل سره په ضروري خبرو باندې دوی وپوهوئ !، هو ! هغه کسان چې د دوی له منځه ښکاره بې انصافي، ظلم، عناد او سرتمبګي کوي؛ له هغوی سره په مناسب صورت د سختي او تشدد معامله کولی شئ، او له دې نه وروسته دوی په سزا هم رسولی شئ !.

وَقُولُوا آمَنَّا بِالَّذِي أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَأُنْزِلَ إِلَيْكُمْ

او ووایئ تاسې چې ایمان راوړی دی مونږ په هغه (قرآن) چې نازل کړی شوی دی مونږ ته، او (په هغه کتابونو چې) نازل کړی شوي دي تاسې ته.

تفسیر: یعنې لکه څنګه چې مونږ په عظیم الشأن قرآن ایمان راوړی دی، په دې مو هم ایمان راوړی دی، چې الله تعالی ستاسې د هدایت لپاره موسی او عیسی او نورو انبیاوو علیهم السلام ته چې کوم کتابونه او احکام لیږلي دي؛ هغه ګرد حق او رښتیا دي، او د هغو یو حرف هم غلط نه وو، که څه هم اوس هغه اسماني کتابونه په خپل هم هغه اصلي صورت او حقیقت ستاسې په لاسونو کې نه دي پاتې.

وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿٤٦﴾

او الله ځمونږ او الله ستاسې یو دی، او مونږ خاص الله ته غاړه ایښودونکي (موحدان) یو.

تفسیر: یعنې ځمونږ او ستاسې اصلي معبود یو دی، یوائې دغومره فرق په منځ کې شته، چې مونږ یوائې د هم هغه الله تعالی په حکم عمل کوو، او تاسې له هغه څخه لري شوي یئ، او نورو ته مو هم د الوهیت حقوق او اختیارات ورکړي، مثلا عُزیر یا احبارو او رهبانانو ته، سربېره په دې مونږ د الله تعالی ګرد احکام ومنل، او د ده د ګردو انبیاوو او کتابونو

تصديق مو وکړ، او په حقه او رښتيا سره يې منو، او د ده د وروستي حکم په مقابل کې مو غاړه کښوده، او تاسې ځينې ومنل، او ځينې مو ونه منل، او له وروستي تصديق څخه بيخي منکر شوئ.

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ ۭ فَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۚ وَمِنْ هٰٓؤُلَاۗءِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ ۭ

او همداسې (چې نازل کړي وو مونږ په نورو انبياوو کتابونه) نازل کړی دی مونږ په تا کتاب (قرآن)، پس هغه کسان چې ورکړی دی مونږ دوی ته کتاب (تورات)؛ ايمان راوړي دوی په دې (قرآن)، او ځينې له دغو (عربو او نورو څخه) هغه څوک دي چې ايمان راوړي په دې.

تفسير: هم هغسې چې د پخوانيو انبياوو صحيفې او کتابونه په يوه پسې به بل نازلېده؛ همداسې په نبي آخر الزمان همدغه لاځواب مقدس کتاب نازل شوی دی؛ نو تاسې د هغه له منلو څخه ولې دومره انکار کوئ؟.

وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا الْكٰفِرُوْنَ ۝

او نه منکريږي په آيتونو ځمونږ مګر کافران.

تفسير: يعنې هغه کتابيان چې د خپلو حقاني کتابونو په مفهوم او مدلول په ښه شان سره پوهېدلي دي؛ هغوی به دغه قرآن هم ومني، او انصافًا هم ښايي چې ويې مني، لکه چې له هغوی ځينې هغه کسان چې منصفان دي، هغوی د ده صداقت د زړه له کومې نه يواځې کتابيان بلکه د عربو ځينې خلق هم چې په پخوانيو کتابونو بيخي نه پوهيږي؛ دغه قرآن هم مني، په حقيقت کې د عظيم الشأن قرآن د صداقت دلائل دومره روښانه دي چې له حق پټوونکو او نه منونکو خلقو نه پرته بل هيڅوک د ده له صداقت او منلو نشي منکر بدی.

وَمَا كُنْتَ تَتْلُوْا مِنْ قَبْلِهٖ مِنْ كِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِيَمِيْنِكَ اِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُوْنَ ۝

او نه وې ته (ای محمده !) چې لوست به تا پخوا له دې قرآن څخه کوم کتاب (له پخوانيو کتابونو نه)، او نه به دې ليکه دغه (کتاب) په ښي لاس خپل، (او که چېرې وی ته ليکونکی، لوستونکی)؛ نو هلته به خامخا شک کاوه باطلوونکو (خلکو).

تفسير: د قرآن له نزول څخه پخوا د رسول الله صلى الله عليه وسلم څلويښت کاله په همدغو مکيانو کې تېر شول، ټول په دې پوهيږي او خبر دي چې په دغو څلويښتو کلونو کې محمد صلى الله عليه وسلم هيڅ يو معلم او استاذ ته نه دی ناست، نه يې کوم کتاب لوستی دی، او نه يې په خپل مبارک لاس کې قلم اخيستی دی، که داسې وی؛ نو امکان يې درلود چې دغو باطل ويونکو به داسې شُبهې او تصوّر کاوه چې ممکن محمد صلى الله عليه وسلم به ټول پخواني کتابونه لوستې وي، او د هغو له منځه به يې ځينې يادداشتونه او اقتباسات کړي وي، او بيا به يې هغه ورو ورو په خپل عبارت او سبک سره جوړ کړي وي، چې اوس يې خلقو ته اوروي، که څه هم په هغه تقدير سره به هم داسې ادعاء غلطه وه، ځکه چې هيڅ يو ليکونکی او لوستونکی انسان لا څه بلکه که د ټولې دنيا علماء او فضلاء سره راټول شي، او د ګردو مخلوقاتو قوّت په دغه لاره کې صرف شي؛ خو بيا هم دوی داسې يو بې مثاله کتاب نشي جوړولی، خو سره د هغه هم دروغجنانو ته د خبرو جوړولو يوه زمينه په لاس ورتله، ليکن کله چې د محمد صلى الله عليه وسلم امينتوب له مسلّماتو او منل شوو خبرو څخه دی؛ نو د دغې سطحې شبهې بيخ هم وويستل شو، خو سره له دې هم ضد کوونکو او معاندينو له خپلو دروغو پلمو او چتې خبرو خوله ونه تړله، لکه چې داسې به يې ويل: ﴿وَقَالُوْٓا اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا﴾ (١٨ جزء د «الفرقان» سورت اوله رکوع، (٥) آيت).

بَلْ هُوَ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ فِي صُدُورِ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ

بلکه دغه (قرآن) آیتونه دي ښکاره په سینو د هغو کسانو کې چې ورکړی شوی دی هغوی ته علم (فهم یعنې مؤمنان چې یادوي یې).

تفسیر: یعنې رسول الله صلی الله علیه وسلم له چا څخه لیکل او لوستل نه دي زده کړي، بلکه دغه وحي چې په ده نازلیږي؛ تل به بې د لیکلو سینه په سینه جاري پاتې وي، او د الله تعالی په فضل به د علماوو، فضلاوو، حفاظو، او قراؤو په سینو کې دده د الفاظو او معانیو حفاظت کیږي، نور اسماني کتابونه نه یادېدل او دغه کتاب یادیږي، او په حفظ سره ساتلی او باقي پاتې دی، لیکل پرې سربېره او علاوه دي (له موضح القرآن په لږ توضیح سره).

وَمَا يَجْحَدُ بِآيَاتِنَا إِلَّا الظَّالِمُونَ ﴿٤٩﴾

او نه منکریږي په آیتونو ځمونږ (هیڅوک) مګر بې انصافان ظالمان.

تفسیر: یعنې د بې انصافۍ علاج به څرنګه وکړی شي، که یو سړي له خپله ځانه سره داسې غوټه کړي وي، چې زه به له سره رښتیا خبره نه منم، او د ډېرو روښانو او څرګندو شیانو څخه به هم انکار کوم.

وَقَالُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَاتٌ مِنْ رَبِّهِ ۖ قُلْ إِنَّمَا الْآيَاتُ عِنْدَ اللَّهِ وَإِنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿٥٠﴾

او وایي (دغه د مکې کفار) چې ولې نه نازلولی شي په دغه (محمد) معجزې له (طرفه د) رب د ده، ووایه (ای محمده ! دوی ته) بېشکه همدا خبره ده چې معجزې (خاص) په نزد د الله دي، او بېشکه همدا خبره ده چې زه ویروونکی ښکاره یم (له جحیم څخه).

تفسیر: یعنې دغه خبره ځمونږ په واک او قبضه کې نه ده، چې کومه معجزه چې تاسې یې غواړئ؛ زه هم هغه معجزه تاسې ته دروښیم، او نه د کوم نبي تصدیق په دې خبرو څه ارتباط لري، زما کار او وظیفه دا ده: چې د بدی د بدو نتائجو څخه تاسې خبر کړم، او په ښکاره او صافو الفاظو کې تاسې ته د خیر او شر ګردې لارې دروښیم، که حق تعالی ځما د تصدیق لپاره څه معجزې هم تاسې ته ښیي؛ اختیار لري.

أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾

آیا نه دی کافي دوی ته (له جهته د معجزې دا چې) بېشکه مونږ نازل کړی دی مونږ په تا کتاب (قرآن) چې تل لوستل کیږي په دوی باندې، بېشکه چې په دې (کتاب باقي الی الأبد) کې خامخا رحمت مهرباني او ذکر پند دی لپاره د (هغه) قوم چې ایمان راوړي.

تفسیر: یعنې آیا دغه معجزه نه ده کافي؟ له دغه کتاب نه چې تاسې ته یې د شپې او ورځې لولې او اوروي؛ بله معجزه به څه وي؟ آیا نه ګورئ چې د دې کتاب منونکو او تابعانو څرنګه عقل او پوهه پیدا کړې ده؟ او څنګه د الله تعالی له رحمته مستفید شوي دي؟.

قُلْ كَفَىٰ بِاللَّهِ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ شَهِيدًا ۖ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۗ

ووایه (ای محمده دوی ته) کافي دی الله ځما او ستاسې په منځ کې شاهد (په صدق ځما او تکذیب ستاسې)، چې ورمعلوم دي هر هغه شی چې په اسمانونو کې دی، او (هر هغه شی چې) په ځمکه کې دی.

تفسير: يعني د الله تعالى په ځمكه او د ده تر اسمان لاندې زه ښكاره او په څرګند ډول د رسالت دعوى كوم، چې هغه يې اوري اوګوري، بيا ورځ په ورځ ماته او ځما نورو ملګرو ته ترقي او پرمختګ راپه برخه كوي، او تعداد او شمېر مو را زياتوي، او پرله پسې ډول ځما د دغې دعوى عملي تصديق كوي، ځما په ژبه ځما په لاسونو د قدرت داسې خارق العاده معجزې څرګندېږي چې د هغو د مثل او نظير له وړاندې كولو څخه ټول پيريان او انسانان عاجز دي، آيا ځما د صداقت لپاره د الله تعالى دغه شهادت كافي نه دى؟.

وَالَّذِينَ آمَنُوا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوا بِاللَّهِ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٥٢﴾

او هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى په باطل او كافران شوي دي په الله؛ دغه كسان هم دوى زيانكاران دي.

تفسير: د انسان لويه بدبختي او زيان دا دى چې دروغ خبره كه څه هم وړه او په ښكاره ډول باطله هم وي؛ ژر مني، او رښتيا خبره كه څه هم صافه او ښكاره او واضحه هم وي؛ نه يې مني، او تر يې انكار كوي.

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَلَوْلَا أَجَلٌ مُسَمًّى لَجَاءَهُمُ الْعَذَابُ وَلَيَأْتِيَنَّهُمْ بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٥٣﴾

او تلوار كوي (دغه كفار) په تا په راتلو د عذاب، او كه نه وى (هغه) نېټه ټاكلې (مقرر) شوې (لپاره د عذاب)؛ نو خامخا راغلى به وو دغو (ژر غوښتونكو) ته عذاب (سمدلاسه)، او خامخا به راشي دا عذاب دوى ته يو ناڅاپه حال دا چې دوى به نه وي خبر (د راتګ په وخت يې).

تفسير: يعني منكران وايي: كه مونږ په ناحقه او باطله يو؛ نو په مونږ باندې ولې په همدې دنيا كې آفت او بلا نه نازليږي؟ نو د دوى د دغې غوښتنې ځواب داسې وركړ شو چې: كه نه وى هغه نېټه ټاكلې شوې؛ نو خامخا به راغلى وو دغو ژر غوښتونكو ته عذاب سمدلاسه، او خامخا رابه شي دا عذاب دوى ته يو ناڅاپه حال دا چې دوى به نه وي خبر د راتګ په وخت يې، يعنې هر شى په خپل ټاكلي وخت كې راتلونكى دى، مه وارخطا كېږئ ! تاسې هرومرو (خامخا) په هم هغه مطلوبه بلا او آفت اخته كېدونكي يئ، شاه صاحب ليكي: «د دغه امّت عذاب همدغه وو چې د مسلمانانو په لاس قتل او قيد شول، لكه د مكې معظمې په فتح كې ګرد مكيان بېخبره وو، چې محمّدي لښكر په دوى ورغى».

يَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ ﴿٥٤﴾ يَوْمَ يَغْشَاهُمُ الْعَذَابُ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ وَيَقُولُ ذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٥٥﴾

تلوار كوي كفّار په تا په (راتلو) د عذاب (په دنيا كې) حال دا چې بېشكه دوزخ خامخا احاطه كوونكى دى په كافرانو. (يادە كړه اى محمده ! هغه) ورځ چې لاندې به كړي دوى عذاب له پاسه د دوى، او له لاندې د پښو د دوى نه، او وبه وايي دوى ته الله: وڅكئ تاسې (خوند د سزا) د هغه (عمل) چې وئ تاسې چې كاوه به مو (په دنيا كې).

تفسير: دلته به له عذاب څخه ښايي د آخرت عذاب مراد وي، لكه چې له ځواب څخه يې معلوميږي، دوى عذاب په دنيا كې غواړي، خو له مرګه وروسته د دغو ګردو خبرو حقايق دوى ته د سر په سترګو وښكاره كېږي، او دوى به ګوري چې په څه شان به دوى د دوزخ په اور كې سوځي؟.

حديث كې راغلي دي چې: د هغه مال به مار ګرځاوه شي، او د ده په غاړه كې به لكه غاړكى لويږي، او دى به له ستوني څخه نيسي او څيروي به يې، او داسې به ورته وايي چې: زه ستا مال يم، او زه ستا خزانه يم.

يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ اَرْضِيْ وَاسِعَةٌ فَاِيَّايَ فَاعْبُدُوْنِ ﴿٥٦﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ثُمَّ اِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿٥٧﴾

ای بندګانو ځما هغو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) بېشکه ځمکه ځما ارته ده (نو د وېرې له ځای نه د امن ځای ته هجرت وکړئ !) پس خاص ما لره عبادت کوئ تاسې (په هر هغه ځای کې چې مأمون اوسئ ! دغه د مکې معظمې کفار که تاسې تکلیفوي؛ نو د الله تعالی ځمکه خو تنګه نه ده، بل چېرې لاړ شئ او هلته د الله تعالی په عبادت مشغول شئ !). هر یو نفس (ژوندی) ځکونکی د مرګ دی (یعنې خامخا مري) بیا (خاص) مونږ ته (په بعث بعد الموت سره) راوستل کیږئ (د جزاء لپاره).

تفسیر: شاه صاحب لیکي: «کله چې کفارو په مکه معظمه کې ډېر زور او قوت د مسلمانانو په خلاف پیدا کړ؛ نو مسلمانانو ته حکم وشو چې هجرت وکړئ ! لکه چې د مسلمانانو اتیا یا درې اتیا کورنۍ حبشې ته لاړې، د همغه په نسبت دلته وایي چې: دغه د څو ورځو ژوندون هر چېرته چې ممکن وي؛ هم هغلته یې تېر کړئ ! بیا وروسته له هغه ګرد سره یو ځای کېدونکي یئ، او ماته راتلونکي یئ، په دغه سره مهاجرینو ته تسلي ورکړی شوه، څو په دوی د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم مفارقت او د وطن لرېوالی آسان شي، او د ډېرو زیاتو تکلیفونو او زحمتونو احساس ونه کړي».

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ نِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿٥٨﴾ الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٥٩﴾

او (هغه) کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه)؛ خامخا ځای به ورکړو مونږ هرومرو دوی ته له جنته په جګو مانیو کې، چې بهیږي لاندې له (ونو او مانیو د) هغو ویالې (ځلور)، حال دا چې تل به اوسیږي په دغو (مانیو کې)، ښه دی اجر د دغو عمل کوونکو. هغه (عاملان) چې صبر یې کړی (په طاعت او مصیبت او له معصیت نه) او (خاص) په رب خپل توکل کوي.

تفسیر: یعنې هر څوک چې له صبر او استقلال سره سره د ایمان او اسلام په لاره ټینګ ثابت او قائم وي، او په پاک الله اعتماد او توکل وکړي، او خپل کور او کهول پرېږدي، او له خپل وطن څخه ووځي؛ نو دوی ته به د دغه وطن په بدل هغه بل وطن ور په برخه کیږي، او د دې ځای له کورونو څخه به ښه کورونه ورته ورکړل شي.

وَكَاَيِّنْ مِّنْ دَآبَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ۖ اَللّٰهُ يَرْزُقُهَا وَاِيَّاكُمْ ۖ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٦٠﴾

او ډېر دي له خوځېدونکو (ذیروحو په ځمکه) چې نه پورته کوي دوی رزق خپل (له وجې د ضعف) الله رزق رسوي هغوی ته او تاسې ته هم، او همدی ښه اورېدونکی (د ټولو اقوالو) ښه پوه دی (په ټولو احوالو).

تفسیر: په دغه سره یې د روزی له پلوه اطمینان او ډاډ راکړ، چې د زیاترو ساکنانو په ځایونو کې د بلې ورځې خوراک او روزي نه وي، په نوې ورځې کې نورې روزي وررسیږي (موضح)، بیا نو هغه الله تعالی چې ساکنانو ته رزق، روزي رسوي، آیا خپلو وفادارو او خاصو بندګانو ته به یې نه رسوي؟ ! ښه وپوهېږئ چې حقیقي رزّاق خو هم هغه دی چې د ګردو خبرې اوري، د دوی د زړونو په اخلاص پوهیږي، د هر یوه ظاهر او باطن ده ته څرګند او ښکاره دی، د هیڅا

زيار او خواري د ده په دربار کې بې ځايه نه پاتې کيږي، هغه خلق چې د الله تعالى په لاره کې خپل وطن پرېږدي؛ او محض لله وتلي وي؛ د دوى دغه هجرت له سره نه ضايع کيږي، دوى دې د معيشت د وسائلو او د سامان د وړلو چې له خپله ځانه سره يې يوسي؛ هيڅ فکر ونه کړي، څومره ساکنبان دي چې د دوى رزق روزي د دوى په شاګانو نه ده بار، او له خپلې روزۍ سره هر چېرې نه ګرځي، خو حقيقي رازق دوى ته هره ورځ رزق او روزي رسوي.

وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللّٰهُ ۖ فَأَنّٰى يُؤْفَكُونَ ﴿٦١﴾

او قسم دى که سوال وکړې ته له دوى نه (اى محمده ! داسې) چې چا پيدا کړي دي اسمانونه او ځمکه؟ او مسخر کړى دى لمر او سپوږمى؛ نو خامخا وايي (د مکې کفار چې) الله (پيدا کړي دي، له دغه اقراره سره سره) پس څرنګه دوى ګرځولى شي (له توحيد څخه).

اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ ۚ إِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٦٢﴾

الله پراخوي رزق لپاره د هر هغه چا چې اراده وکړي (د پراخې يې) له بندګانو خپلو څخه، او تنګوي يې په ده (که اراده وکړي د تنګې يې) بېشکه چې الله په هر شي ښه عالم دى.

تفسير: يعنې په مېچ او اندازه کوي يې، داسې نه چې بيخي يې نه ورکوي، بېشکه چې الله تعالى په هر شي باندې ښه عالم دى، يعنې په دې باندې يواځې همدى عالم او خبر دى، چې چاته يې ورکړي؟ او څومره يې ورکړي؟.

وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَّنْ نَّزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ اللّٰهُ ۚ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٦٣﴾

او بيا قسم دى چې که سوال وکړې ته له دوى نه (اى محمده ! داسې) چې چا نازلې کړي دي (له طرفه) د اسمان څخه اوبه پس ژوندى کړي يې ده په دې اوبو سره ځمکه پس له مرګه (او وچوالي) د دې؟ نو خامخا وايي دوى چې: الله (نازلې کړي دي، نو له دغه اقرار سره سره ولې شريک ورته پيدا کوي؟) ووايه (اى محمده !) ټوله ثناء الله ته ده، بلکه زياتره د دوى نه لري عقل (ځکه د دوى اقوال تناقض لري).

تفسير: يعنې باران هم په هر چا او هر ځاى يو برابر نه اوري، همداسې د حال او احوال په بدلولو کې هم دومره ځنډ او ډيل نه پيښيږي، يا کله الله په لږ وخت کې خوار او غريب غني او شتمن ګرځوي.

وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ إِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ۚ وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۚ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٦٤﴾

او نه دى دغه ژوندون د دنيا مګر عبث او لوبې دي، او بېشکه چې دار، آخرت خامخا هم هغه دى واقعي حيات (او ژوندون) که چېرې وى دوى چې پوهېدلى (نو نه به يې غوره کوله دنيا په آخرت).

تفسير: يعنې انسان ته ښايي چې د دې دنيا په څو ورځني ژوندون کې زياتره د آخرت په فکر کې اوسي، ځکه چې اصلي او دائمي ژوندون هم هغه دى، نه ښايي چې څوک د دنيا په لوبو او تماشو کې ډوب او د آخرت له فکر او ياد څخه بيخي غافل شي، بلکه د دې دنيا په ژوندون کې ښايي د هغې دنيا لپاره تيارى وکړي، او د عقبى د سفر لپاره ځان ته توښه برابره کړي.

فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴿٦٥﴾
لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ وَلِيَتَمَتَّعُوا فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٦٦﴾

پس هر کله چې سپاره شي دوی په بېړۍ کې؛ نو بولي دوی (هلته یواځې) الله په داسې حال کې چې خالص کوونکي وي دوی دغه (الله) ته دین خپل، پس هر کله چې نجات ورکړي (الله) دوی ته وچې ته؛ ناڅاپه دوی بیا شریکان نیسي له الله سره (لکه پخوا). لپاره د دې چې کافران منکران شي دوی په هغه نعمت چې ورکړی وو مونږ دوی ته او چې ګټه (فائده) واخلي دوی، پس ژر به پوه شي دوی (په عاقبت د کار خپل).

تفسیر: یعنې لازم خو داسې وو چې انسان په دنیوي عیش او عشرت کې په دې اندازه اخته او مشغول نشي؛ چې د الله تعالی او د عقبی له یاده بیخي غافل شي، لیکن د خلقو دا عادت دی هر کله چې د دوی جهاز یا بېړۍ طوفاني شي؛ نو په ډېر اخلاص او پوره عقیدې سره پاک الله یادوي، بیا څه وخت چې هغه آفت او مصیبت د دوی څخه لرې شي، او صحیح او سلامت په وچه کې قدم کیږدي؛ نو د الله تعالی هغه ګرد انعامونه او احسانونه هیروي، بیا د هم هغو باطلو معبودانو په عبادت او صفت لګیا کیږي، ګواکې مطلب دا شو چې د الله تعالی د نعمتونو ناشکري او کفران کوي، او په دنیوي خوندونو او چرچو کې مشغولیږي، خیر دی، دوی دې څو ورځې نور هم د خپل زړه دغه هوسونه او ارمانونه وباسي، هغه وخت ډېر نژدې دی چې دوی ته دغه خبره روښانه او څرګنده شي، چې د دغه بغاوت، شرارت احسان هېرول د نعمت کفران او د نورو ګناهونو نتایج به څرنګه وي؟.

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ اللَّهِ
يَكْفُرُونَ ﴿٦٧﴾

آیا نه وینې (نه پوهیږې) چې بېشکه مونږ ګرځولی مو دی (دا مکه) حرم امن ورکوونکی حال دا چې چور کیږي (تښتولی کیږي) نور خلق له چاپېره د دوی، آیا پس په باطلو معبودانو ایمان راوړي دوی او په نعمت د الله (چې حرم کې اوسېدل او امن دی) کافران کیږي.

تفسیر: د مکې معظمې خلق د بیت الله په برکت د دښمنانو د تیري او ضرر څخه محفوظ وو، حال دا چې نور د عربستان په ګردو ځایونو کې د فتنې، فساد، جدال، قتال، جنګ او جنجال بازارونه تاوده وو، نو دوی د باطلو معبودانو په دروغو احسان مني، مګر د پاک الله دغه واضح او ښکاره احسان نه مني.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى
لِلْكَافِرِينَ ﴿٦٨﴾

او څوک دی ډېر ظالم له هغه چا چې له ځانه وتړي په الله دروغ (چې بې حجّته ورته شریک نیسي) یا تکذیب وکړي د حق (رسول او قرآن) کله چې راشي هغه ده ته (بلکه له ده نه ډېر ظالم نشته)، آیا نشته (بلکه شته) په دوزخ کې ځای د هستوګنې لپاره د کافرانو.

تفسیر: یعنې له ګردو څنې لوی ظلم او ناانصافي دا ده چې بل کوم مخلوق د دې لوی خالق شریک وګرځول شي، یا پاک الله ته د داسې خبرو نسبت وکړی شي چې د الوهیت له شان او عظمت سره وړ او لایق نه وي، یا د هغو انبیاوو په تکذیب او دروغجن شمېرلو لاس پورې کړي چې د رب العزّت له جانبه یې دیانت او صداقت راوړی وي، آیا دغو

ظالمانو ته نه ده معلومه چې د منکرانو د هستوګنې ځای دوزخ دی، چې په داسې بېباکی او بېحیایی سره د عقل او انصاف په مرئ چاړه کاږي.

وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ

او هر چې هغه کسان چې کوښښ کوي تل په (دین د) مونږ کې؛ خامخا وبه ښیو خامخا دوی ته لارې خپلې.

تفسیر: یعنې هغه کسان چې یوائې د الله تعالی لپاره محنتونه کوي، او تکلیفونه ګالي، او په راز راز مجاهداتو کې مشغول او لګیا وي؛ الله تعالی دوی ته د بصیرت یوه خاصه رڼا او نور ور په برخه کوي، او د طاعت توفیق ورته په برخه کوي.

وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٦٩﴾

او بېشکه الله خامخا له نیکوکارانو سره دی (په مرسته کې).

تفسیر: یعنې د الله تعالی حمایت او مرسته د نیکي کوونکو سره وي.

تمّت سورة العنكبوت بفضل الله تعالى، فلله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الرُّومِ

«د (الروم) سورت مکي دی، پرته د (۱۷) آیت چې مدني دی، (۶۰) آیتونه او (۶) رکوع لري، په تلاوت کې (۳۰) او په نزول کې (۸۴) سورت دی، وروسته د «الانشقاق» له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

الٓمٓ ﴿۱﴾ غُلِبَتِ الرُّومُ ﴿۲﴾ فِي أَدْنَى الْأَرْضِ

مغلوب کړی شو (اهل د) روم په متّصله (نژدې) ځمکه کې.

تفسیر: له ﴿أَدْنَى الْأَرْضِ﴾ لګېدلې ځمکې یا رانژدې ځمکې څخه مراد د «أذرعات» او «بصری» په منځ کې سیمه ده، چې د شام په سرحد د حجاز سره نښتې او معظمې مکې ته نژدې پرته ده، یا به ترې فلسطین مراد وي، چې د رومیانو ملک نژدې وو، یا به د «ابن عمر جزیره» مراد وي، چې «فارس» ته ډېره نژدې پرته ده، ابن حجر د ډومبي قول تصحیح کړې ده، والله أعلم.

وَهُم مِّن بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ﴿۳﴾ فِي بِضْعِ سِنِينَ ۗ

او دغه (رومیان به) وروسته له دغه مغلوبیت د دوی ژر به بیا غالب شي (په پارسیانو). په څو کلونو کې.

تفسیر: یعنې د نهو کلونو په منځ کې به رومیان غالب شي، ځکه چې په لُغت او حدیث کې د «بضع» اطلاق له دریو ځنې تر نهو پورې شوی دی، واقعه داسې ده: د دغې زمانې دوه لوی سلطنتونه «فارس» او «روم» له ډېرو کلونو را په دېخوا په خپلو منځونو کې سره په جنګ اخته وو، مکیانو ته د روم او د فارس د جنګونو په متعلق خبرونه او اطلاعات ورسېدل، په دغه وخت کې د نبي کریم د نبوي دعوي او اسلامي تحریک، د دغوخلقو په زړونو کې د جنګي خبرونو سره یوه خاصه علاقه پیدا کړې وه، د فارس مجوسي آتش پرستانو د مکې معظمې له بُت پرستانو سره یو ځانته علاقه او ارتباط درلود، او هغوی به یې د مذهب له مخې خپل بلل، او د روم نصرانیانو به د اهل الکتاب توب لامله د مسلمانانو لږ تر لږه د هغو د نژدې دوستانو په منزله ګڼل کېدل، کله چې به د فارسیانو د غلبې خبر راورسېد؛ نو د مکې معظمې مشرکانو به خوشالي کوله، او په هغه سره به یې د مسلمانانو په مقابل کې په خپله غلبه او بري باندې فال نیوه، او پخپلو زړونو کې به یې د ډېرو ښو توقّعاتو امیدونه ترل، مسلمانانو ته به هم بالطبع صدمه رسېدله، چې ولې عیسایي اهل کتاب د آتش پرستو مجوسانو په مقابل کې مغلوب شول؟ چې مونږ دلته د دغو مشرکانو د طعنو او پیغورونو مورد ګرځیدلي یو، بالآخر د خسرو پرویز (ثاني کیخسرو) په عهد کې فارسیانو رومیانو ته ډېره سخته ماتې ورکړه، شام، مصر او وړوکې ایشیا او نور ډېر ممالک د روم د قیصر (هرقل) له لاسه ووتل، او په خپله دی د فارس د لښکرو له لاسه په (قسطنطنیه) کې کلابند او محصور شو، ظاهرًا هیڅ یو داسې وسایل او وسایط په نظر نه راتلل چې د هغه په اثر به بیا رومیان په خپلو پښو درېدل، او د فارسیانو د دغه بري او تسلط څخه به یې خپل ځانونه بچ کول، چې د دغو حالاتو او اوضاعو د لیدلو ځنې به د مکې معظمې مشرکان ډېر خوښ او خوشالېدل، او مسلمانان به یې ځوروول، تر دې پورې چې ځینو له

مشرکینو څخه ابوبکر الصدیق رضي الله تعالی عنه ته وویل چې: «نن ځمونږ ایراني وروڼو ستاسې رومي ورونو ته ماتې ورکړه، او محوه یې کړل، سبا به مونږ تاسې ته هم داسې ماتې درکړو، او له منځه به مو لرې کړو»، په دغه وخت کې عظیم الشأن قرآن د ظاهري اسبابو د سلسلې څخه بیخي مخالف داسې یو عام اعلان وکړ چې: «بېشکه نن ورځ رومیان د فارسیانو له لاسه مغلوب شوي دي، لیکن د نهو کلونو په موده کې به بیا رومیان په فارسیانو غالب، منصور او بریالي کیږي»، د دغو وړاندوینو په اساس ابو بکر الصدیق رضي الله تعالی عنه له ځینو مشرکینو سره شرط وتړه، تر دغه وخته پورې داسې شرط تړل نه وو حرام شوي: «که تر دومره کلونو پورې رومیان بریالي نشول؛ نو زه به سل اوښان تاسې ته درکړم، که نه تاسې به همدومره اوښان ماته راکوئ !»، په ابتداء کې ابوبکر الصدیق رضي الله تعالی عنه له خپلې رایې سره سم د (بضع سنین) میعاد لږ څه ټاکلی وو، بیا یې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په ارشاد (بضع) په لغوي مدلول یعنې په نهو کلونو معاهده وتړله، دلته د روم هرقل د خپل له لاسه تللي اقتدار او وقار د اعادې په نسبت ترتیبات ونیول، او په اقداماتو یې لاس پورې کړ.

د الله تعالی شان او قُدرت ته وګورئ چې د قرآن له دغو وړاندوینو سره سم برابر د نهو کلونو په موده کې یعنې له هجرت څخه یو کال وروسته عینًا د بدر په ورځ کې څه وخت چې مسلمانانو ته د پاک الله په فضل پر مشرکانو ښکاره فتح او بری حاصل شو، او په خوشالی او خوښی کې وو؛ د دغه خبر له اورېدلو څخه لا خوښ او خوشاله شول، چې د روم کتابیانو ته هم الله تعالی پر پارسي مجوسیانو بری او فتح ورکړه، په دغه ضمن کې د مکې شریفې مشرکین لا سپک او ذلیل شول، د عظیم الشأن قرآن د دغې محیّر العقولې وړاندوینې د صداقت له مخې ډېر کسان په اسلام مشرّف شول، او ابو بکر صدیق خپل هغه سل اوښان د مکې د مشرکانو څخه واخیستل، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ارشاد سره سم خیرات کړل شول، فلله الحمد علی نعمائه وآلائه الباهرة.

لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْۢ بَعْدُ ؕ

خاص الله ته دی حکم امر پخوا (له دې نه چې پارس په روم باندې بری وموميي) او ورسته (له دې نه چې روم پر پارس غلبه وموميي، او امر یې تل نافذ دی).

تفسیر: یعنې ړومبی د پارسیانو غالبول او د رومیانو مغلوبول، او بیا دغه اوضاع په بل مخ اړول دغه ټول امور د الله تعالی په قبضه او اختیار کې دي، او یواځې په هم دغومره خبرې سره دکوم قوم د مقبولیت او مردودیت فیصله نشي کېدی: ﴿وَتِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ﴾.

وَيَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ ۙ﴿۴﴾ بِنَصْرِ اللّٰهِ ؕ يَنْصُرُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۙ﴿۵﴾

او په دغه ورځ (د غلبې د روم په پارس) خوشاله به شي مؤمنان. په نصرت د الله (له کتابیانو سره په مجوسیانو)، مرسته کوي (الله) له هر هغه چا سره چې اراده وکړي د نصرت یې، او همدی دی ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ډېر رحم کوونکی.

تفسیر: یو خو په دغه ورځ د فتح په خوښی برسېره هغوی ته دغه خوښي هم حاصله شوه چې رومي کتابیان چې نسبتًا مسلمانانو ته نژدې وو؛ په پارسي مجوسیانو غالب شول، او د قرآن د دغو وړاندوینو په صداقت باندې ګرد سره وپوهېدل، او د سر په سترګو یې ولیدل، او د مکې شریفې کفارو ته هر راز ذلت ور په برخه شو، نو د هر چا په نسبت چې الله تعالی اراده وکړي چې مغلوب یې وګرځوي؛ نو هیڅوک یې مخه نشي نیولی، او په هر چا چې د مهربانۍ اراده وکړي؛ نو یې بې له هیڅ مزاحمت او ممانعت ضرر غالب ګرځوي.

وَعْدَ اللّٰهِ ؕ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۶

وعده کړې ده الله (وعده کول) خلاف نه کوي الله له وعدې خپلې، وليکن زياتره خلق نه پوهيږی.

تفسير: يعنې زياتره خلق نه پوهيږي چې په غالبولو او مغلوبولو کې د الله تعالی څه څه حکمتونه شته، او کله چې دی د قدرت کوم کار کول غواړي؛ نو د هغه له مخه ګرد ظاهري موانع او عوايق لرې کيږي، نو ځکه زياتر ظاهري ليدونکي خلق بې له ظاهري اسبابو په الله تعالی اعتماد نه لري، او د يو چا د عارضي بري او غلبې له ليدلو څخه داسې ګڼي چې د الله تعالی په دربار کې به هم هغه مقبول وي.

يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ ۝۷

(بلکه) پوهيږي په ښکاره سطحي شيانو له دغه ژوندون لږ «خسيس» د دنيا څخه حال دا چې دوی له آخرت نه (چې مقصود له ودانی د دې دنيا دی؛) هم دوی غافلان دي.

تفسير: يعنې دغه خلق د دنيوي ژوندون په ظاهري سطح باندې پوهيږي، د دې دنيا آرام، ښايست، سينګار، خوړل، څښل، اغوستل، يوې کول، کرل، ربيل، ګټې کول، په خوندونو او مزو سره ژوندون او ښې شپې ورځې تېرول د دوی د پوهې او تحقيق انتهايي ځای او پرله دی، او له دې نه له سره نه دي خبر چې پر دغه فاني ژوندون پورې د بل يو باقي ژوندون سلسله هم تړلې ده، چې کله انسانان هلته ورورسيږي؛ نو د دغه ژوندون ښه او بد نتايج او ثمرې ور د مخه کيږي.

اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ ؕ مَا خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَاۤ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ

آيا فکر نه کوي دوی په نفسونو خپلو کې (چې عالم صغير دی) چې نه دي پيدا کړي الله دغه اسمانونه او ځمکه او هر هغه چې په منځ د دغو دواړو کې دي مګر په حقه سره او په نېټې ټاکلې شوې.

تفسير: يعنې د دنيا دغه زبردست انتظام خوشې چټې او بېکاره نه دی، دغه پيدايښت ضرور څه مقصود او غرض لري، چې هغه به په آخرت کې څرګندېږي، هو ! که دغه سلسله تل تر تله همداسې چلېدی؛ نو بيا به يوه خبره وی، ليکن د دې دنيا په تغيراتو او احوالو کې له فکر او غور کولو څخه دغه را څرګندېږي چې دغه دنيا هم ضرور يو حد او انتها لري، لهذا په يوې ټاکلې وعدې به دغه دنيا فناء کيږي، او بل عالم به منځ ته راشي.

وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ لَكٰفِرُوْنَ ۝۸

او بېشکه چې ډېر له خلقو (کفارو) په ملاقات د رب خپل (په قيامت کې) خامخا منکران دي.

تفسير: دوی داسې ګڼي چې له سره الله تعالی ته ورتګ نشته، او نه به الله تعالی له مونږ څخه څه حساب او کتاب اخلي، او نه به څه سوال او ځواب راڅخه کوي.

اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَانُوْۤا اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاَثَارُوا الْاَرْضَ وَعَمَرُوْهَاۤ اَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوْهَا وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ؕ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْۤا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝۹

آیا نه ګرځي دغه کفار په ځمکه کې، پس ودې ګوري دا چې څرنګه وه آخره خاتمه د هغو (کسانو) چې تېر شوي دي پخوا له دوی نه، چې وو هغه پخواني ملتونه ډېر سخت له دغو کفّارو له جهته د قوّت، او څیرولې به دوی ځمکه، او ودانه کړې وه (کفارو پخوانیو) دغه ځمکه ډېره له هغې ځمکې نه چې ودانه کړې ده (د مکې کفّارو) دغه (ځمکه)، او راغلي وو دوی ته رسولان د دوی په ښکاره دلائلو، او نه وو الله چې ظلم وکړي په دوی باندې، ولیکن وو دوی چې پر نفسونو خپلو به یې ظلم کاوه (د انبیاوو په تکذیب سره).

تفسیر: یعنې ډېر زورور زورور قومونه مثلاً عاد او ثمود چې پخپل کښت (فصل) یې د ځمکې مخ ډېر ښه ودان کړی وو، او په کې یې کاریزونه، ویالې، کوهي ایستلي وو، او د دغو منکرینو په نسبت د ډېر قوت خاوندان وو، او تمدن ته یې زیاته ترقي ورکړې وه، او د ځمکې مخ یې له دوی نه زیات ودان کړی وو، بالآخر هغوی نن ورځ چېرې دي؟ کله چې د الله تعالی رسولان له ښکاره معجزاتو او روښانو احکامو سره راغلل، او دوی د هغوی تکذیب وکړ، نو آیا تاسو ونه لیدل، او وا مو نه ورېدل چې د هغوی عاقبت او آخره خاتمه څرنګه شوه؟ او په څه شان سره تباه او هلاک وګرځېدل؟.

ثُمَّ كَانَ عَٰقِبَةَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔوا۟ ٱلسُّوٓأَىٰٓ أَن كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَكَانُوا۟ بِهَا يَسْتَهْزِءُونَ ﴿١٠﴾

بیا وه آخره خاتمه د هغو کسانو چې بد یې کړي وو؛ ډېر بد (ځای چې جهنّم دی) په دې سبب چې تکذیب کړی دی دوی د آیتونو د الله، او وو دوی (په دنیا کې چې) په دغو آیتونو به یې مسخرې کولې.

تفسیر: موجوده اقوامو ته لازم دي چې د تېرو اقوامو له احوالو څخه پند او عبرت واخلي، ځکه هر یوه قوم چې پر کوم بد کار سزا موندلې وه؛ بل ته په هم هغه بد کار باندې هم هغسې سزا ورکول کیږي.

ٱللَّهُ يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿١١﴾ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُبْلِسُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿١٢﴾
وَلَمْ يَكُن لَّهُم مِّن شُرَكَآئِهِمْ شُفَعَٰٓؤُا۟ وَكَانُوا۟ بِشُرَكَآئِهِمْ كَٰفِرِينَ ﴿١٣﴾

الله اول ځلي پیدا کوي خلق، بیا اعاده کوي هغه، بیا به خاص همدغه (الله) ته بیول کېږئ تاسې (د مجازاتو لپاره). او په هغه ورځ چې قائم شي قیامت؛ ناامیده به شي ګناهګاران (مشرکان). او نه به وي دوی ته له شریکانو د دوی څخه کوم شفاعت کوونکی، او شي به دوی له شریکانو خپلو (پس له ناامیدۍ) بېزاره منکران.

تفسیر: یعنې هغه شیان چې د الله تعالی شریکان ګرځوئ، کله چې په مطلوب وخت کې په کار ورنشي؛ نو ورځخه منکریږي، او داسې به وایي: ﴿وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ﴾ «قسم دی په الله چې مونږ مشرکانو نه وو».

وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَتَفَرَّقُونَ ﴿١٤﴾

او په هغه ورځ چې ودریږي قیامت؛ په دغه ورځ کې تار په تار به شي ګرد مخلوقات.

تفسیر: یعنې نېک او بد او هر قسم خلق به سره ببل کړل شي، او هره یوه ډله به جلا جلا خپلو ځایونو ته ورسوله شي، چې تفصیل یې په دغه راتلونکي آیت کې راځي:

فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَهُمْ فِي رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ ﴿١٥﴾

پس هر چې هغه (کسان) دي چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه)؛ پس دوی به په روضه (د جنّت) کې خوشاله کړل شي (چې له ډېرې خوشالۍ به یې مخونه تجلّي کوي).

تفسیر: یعنې له هر راز لذّت او خوښۍ ځنې به مستفید او متمتّع شي، دغه د نېکانو د هستوګنې ځای دی، له دې نه وروسته د بدانو ځای هم راښیي، مطلب یې دا چې د دواړو په منځ کې به داسې تفریق او بیلتون وکړ شي چې له هغه ځنې به بل زیات کوم بیلتون امکان ونه لري.

وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَلِقَاءِ الْآخِرَةِ فَأُولَٰئِكَ فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ﴿١٦﴾
فَسُبْحَانَ اللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ ﴿١٧﴾ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا
وَحِينَ تُظْهِرُونَ ﴿١٨﴾

او هر چې هغه کسان دي چې کافران شوي دي او دروغجن یې شمیرلي دي آیتونه (د قرآن) ځمونږ او (کافران دي) په ملاقات د آخرت؛ پس دغه کسان په عذاب کې حاضر کړی شوي دي. پس (تسبیح ووایئ) تسبیح د الله کله چې دا خل شئ په بېګا کې او کله چې ننوځئ په سبا کې. او خاص همده ته ده ثناء صفت په اسمانونو او په ځمکه کې او کله چې ننوځئ په آخر د ورځې کې او کله چې ننوځئ په (وخت د) ماسپښین کې.

تفسیر: یعنې که جنت غواړئ نو الله تعالی یاد کړئ چې د هغه یاد په زړونو، ژبه، اعضاوو او ټولو جوارحو سره کیږي، په لمانځه کې د دریو واړو ډولو یاد سره جمع کړی شوی دی، او د فرض لمانځه وختونه هم دغه دي چې په دغه آیت کې بیان شوي دي، یعنې سبا او ماښام چې مغرب او عشاء پکې شامل دي، د ورځې وروستنۍ وخت مازدیګر او ماسپښین کله چې لمر له نصف النهاره واوړي، چې همدغه پنځه وختونه د لمانځه دي، په دغو وختونو کې د الله تعالی د رحمت یا قُدرت یا عظمت آثار لا زیات ښکاره او ظاهریږي.

ښایي په دغه آیت کې ﴿وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ ویلو سره یې د دې مطلب یادونه کړي وي چې د تسبیح او تنزیه او یادولو لایق هم هغه جامع الصفات ذات کېدی شي، چې د ده حمد «ثناء» او ښېګڼې د اسمانونو او ځمکې ټول کائنات د حال او قال په ژبه بیانوي، بل کوم مجبور او عاجز مخلوق د دې خبرې استحقاق نه لري، که څه هم په نظر کې ډېر لوی هم ښکاره شي، وروسته له دې نه د لوی الله تعالی د ځینو عظیمو شئونو او کاملو صفاتو بیان دی، څو د معبودیت استحقاق په پوره ډول څرګند شي، په دغه ضمن کې د بعث بعد الموت په مسئله هم کافي رڼا اچولی شوې ده.

يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ وَكَذَٰلِكَ
تُخْرَجُونَ ﴿١٩﴾

راوباسي (الله) ژوندی له مړي (لکه مرغه له هګۍ نه، عالم له جاهل څخه)، او راوباسي (الله) مړی له ژوندي (لکه جاهل له عالم څخه، هګۍ له مرغه څخه)، او ژوندي کوي ځمکه پس له مړکه (وچوالي) د هغې، او په مثل (د راویستلو د دغو شیانو) راویستل کېږئ تاسې (له قبرونو څخه).

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ اِذَآ اَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ ﴿۲۰﴾

او یوه له نښو د دغه (الله) دا ده چې: پیدا یې کړ (اصل د) تاسې له خاورو، بیا اوس تاسې یئ بشر خور پرئ (په ځمکه کې).

تفسیر: یعنې آدم علیه السلام یې له خاورو څخه پیدا کړ، بیا د الله تعالی دغه کامله قدرت او بالغه حکمت ته وګورئ چې د هغه اولاد یې په څه اندازه ډېر او تر کومې پیمانې یې په ځمکه کې خور کړ.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱﴾

او (ځینې) له نښو د دغه (الله) دا دي چې پیدا کړې یې دي تاسې ته له نفسونو ستاسې ښځې (جوړه) لپاره د دې چې په آرام شئ تاسو د دوی سره (او مطمئن اوسئ)، او ګرځولې یې ده په منځ ستاسې (او د ښځو) کې دوستي او مهرباني، بېشکه په دغه (پیدا کولو د مودت او رحمت په منځ د ازواجو) کې خامخا ډېرې نښې د قدرت دي لپاره د (هغه) قوم چې فکر کوي (د الله په صنع کې).

تفسیر: یعنې رومبی یې له خاورو څخه آدم علیه السلام پیدا کړ، بیا یې له آدم علیه السلام څخه د ده جوړه پیدا کړه، څو له هغې څخه انس او اطمینان واخلي، او په خلقي ډول یې د دواړو صنفونو نارینه او ښځې په منځ کې خاص قسم مینه او محبت او الفت واچوو، څو د ازدواج اصلي مقصود ترې حاصل شي، لکه چې د دغو دواړو د اختلاط او ګډ اوسېدلو څخه انساني نسل په دنیا کې خپور شو، لکه چې الله تعالی د النساء د سورت په اوله رکوع ـ اول آیت کې فرمایي: ﴿يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَاۗءً﴾.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ ﴿۲۲﴾

او (ځینې) له نښو د دغه (الله)، پیدا کول د اسمانونو او ځمکې او اختلاف دی د ژبو ستاسې او د رنګونو ستاسې، بېشکه په دغه (اختلاف کې) خامخا ډېرې نښې دي لپاره د عالمانو پوهانو.

تفسیر: ګرد انسانان یې له یوه موره او پلار څخه پیدا او سره یې مخلوط او مېشته او د ځمکې په ټولو نقاطو کې یې خپاره (خواره) کړل، د هر یوه ژبه او وینا یې سره بېله کړه، که د یوه مملکت سړی بل ملک ته ورشي، د ژبې په اعتبار محض پردی او اجنبي ښکاري، بیا وګوري چې د دنیا له شروع څخه تر نن ورځې پورې څومره بېشماره انسانان پیدا شوي دي، مګر هیڅ یوه داسې جوړه انسانان نه پیدا کیږي چې د هغوی شونډې، ژبې، لهجه، تلفظ د تکلم طرز او نور خصائص سره یو شان وي، هم هغسې چې د هر انسان شکل او صورت او رنګ او نور سره جلا او ممتاز دي؛ غږ او شونډې او لهجه یې هم بیخي سره بیل دي، هیڅ یو داسې دوه انسانان نه پیدا کیږي چې د دوی په غږ او رنګ، هیئت، وضعیت کې کومه بېلوونکې علامه او نښه نه وي.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖ مَنَامُكُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَابْتِغَاۗؤُكُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ۭ

او (ځینې) له نښو د دغه (الله) خوب ستاسې دی په شپه کې او په ورځ کې او طلب ستاسې دی (په دغه ورځ کې) له فضله د الله.

تفسير: شاه صاحب ليکي چې: «د انسان دوه حالتونه سره بدليږي، که ويده شي؛ نو د تيږې په شان بې هوشه او بېخبره پروت وي، او که د رزق او روزۍ په تلاش لګيا شي؛ نو په داسې پوهه او هوښيارۍ لګيا کيږي چې د ده په شان بل هيڅوک هوښيار نه ليدل کيږي، په اصل کې شپه د خوب لپاره ده، او ورځ د روزۍ د تلاش لپاره مخصوصه ده، نو ځکه په همدغو دواړو وختونو کې همدغه دواړه کارونه اجرا کيږي».

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٢٣﴾

بېشکه په دې (خوب او معيشت) کې خامخا ډېرې نښې دي لپاره (د هغه) قوم چې اوري.

تفسير: يعنې څه چې اوري؛ په ياد يې ساتي، لکه چې د ابن کثير (رحمه الله) په تفسير کې راغلي دي، شاه صاحب ليکي چې: «د خپل خوب حالات نه وينې، ليکن د نورو خلقو د ژبو څخه يې اوري»، (موضح)، دغه د «يسمعون» د لفظ د اختيارولو نکته شوه.

وَمِنْ آيَاتِهِ يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا

او (ځينې) له نښو د دغه (الله دا دي) چې ښيي تاسې ته برېښنا لپاره د وېرې (له تندر) او لپاره د اميد د باران.

تفسير: د برق او د برېښنا د سخت برېښېدلو څخه خلق ويريږي، او دغسې تصوّر کوي نه چې تندر راولويږي، يا باران له خپلې اندازې څخه زيات ونه وريږي، چې د هغه له امله جاني او مالي تلفات واقع نه شي، او هيله او اميد هم ورته لري چې که دغه ورېدل ګټور واقع شي، نو ګرد دنيوي کارونه به ښه وچليږي، هغه مسافران چې په دغو تورو تيارو کې سفر کوي، کله دغه د برېښنا برېښېدل ځان ته غنيمت ګڼي، چې تر ډېر لرې پورې د هغې رڼا په اثر لار او نور شيان ورڅرګندېږي، او کله کله دوی هم ترې ويريږي.

وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَيُحْيِي بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٤﴾

او نازلوي (الله) له (طرفه) د اسمان څخه اوبه پس ژوندي کوي په دغو (اوبو) سره ځمکه وروسته له مرګ (وچوالي) د دې، بېشکه چې په دغه (برېښنا او باران) کې خامخا ډېرې نښې دي لپاره (د هغه) قوم چې عقل لري (او تدبّر کوي په امورو کې).

تفسير: يعنې له دې نه وپوهېږئ ! چې له مرګ څخه وروسته ستاسې بيا ژوندي کول کوم مشکل کار نه دی.

وَمِنْ آيَاتِهِ أَن تَقُومَ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ بِأَمْرِهِ ۚ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً مِّنَ الْأَرْضِ إِذَا أَنتُمْ تَخْرُجُونَ ﴿٢٥﴾

او (ځينې) له نښو د دغه (الله دا دي) چې ولاړ دی اسمان (پاس بې له ستنو او نه لويږي) او ځمکه په امر حکم د الله سره، بيا کله چې راوبولي تاسې په بللو سره له ځمکې څخه ناڅاپه تاسې راووځئ (ژوندي له قبرونو خپلو څخه).

تفسير: ډومبی د ځمکې او اسمان د پيدا کولو ذکر وشو، دلته يې د هغو بقاء او قيام وښود چې هغه هم د الله تعالى په حکم سره دي، او له سره امکان نه لري چې هيڅ يو له دوی نه د خپل ثقل د مرکز څخه بې ځايه شي، يا يو په بل باندې

ولويږي، او د کائناتو نظام تار په تار او وران او ويجاړ کړي، يعني ځمکه او اسمان به تر هغه پورې چې د الله تعالى حکم وي؛ قائم وي، بيا څه وخت چې د ځمکې او د اسمان او د نورو موجوداتو ميعاد پوره شي، او سرته ورسيږي؛ د الله تعالى د يوه غږ په اثر به تاسې ګرد له خپلو قبرونو څخه ژوندي راوځئ، او د حشر ميدان ته به منډې وهئ، او هلته به سره ټولېږئ.

وَلَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿۲۶﴾

او خاص الله لره دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او په ځمکه کې دي (سره له اسمانونو او ځمکې خلقًا، ملکا وعبيدًا)، دا ټول دغه (الله) ته اطاعت کوونکي دي.

تفسير: يعني د اسمانونو او ځمکې ټول اوسيدونکي د ده مخلوق، مملوک، او بندګان دي، او هيڅوک له سره د دغې خبرې قوّت او طاقت نه لري چې د الله تعالى د دغو تکويني احکامو له قبول څخه غاړه وغړولی شي.

وَهُوَ الَّذِيْ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَيْهِ ؕ وَلَهُ الْمَثَلُ الْاَعْلٰى فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۷﴾

او (الله) هغه هغه (مطلق قادر) دی چې اول ځلي پيدا کوي خلق بيا به راژوندي کوي (دا خلق) او دغه (بيا ژوندي راپاڅول هم) ډېر اسان دي په دغه (الله)، او خاص الله لره دی شان، صفت ډېر لوی، لوړ (اوچت) په اسمانونو کې او په ځمکه کې، او همدی دی ښه غالب قوي (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: يعني د الله تعالى د قدرت په مقابل کې ټول سره برابر دي، ليکن ستاسې د محسوساتو په اعتبار د اول ځل پيدا کولو په نسبت د دويم ځل اعاده خو ښايي چې ډېر سهل او آسان وي؛ نو بيا به دغه ډېره عجيبه خبره وي چې په اول ځل پيدايښت کې تاسې الله تعالى قادر منئ، مګر په دويم ځل کې د الله تعالى پيدايښت مستبعد ګڼئ؟.

﴿وَلَهُ الْمَثَلُ الْاَعْلٰى﴾ الآية - «او خاص الله تعالى لره دی شان، صفت ډېر لوی لوړ په اسمانونو او ځمکه کې الخ».
تنبيه: يعني له اعلى ځنې اعلى صفات او له لوړ څخه لوړ شان د الله تعالى شان او صفتونه دي، په اسمان او ځمکه کې هيڅ يو شی په خپل حسن او ښه والي کې د الله تعالى له شان سره برابر او مساوي لا څه بلکه ادنى صفت او مشابهت ته يې هم ځان نشي رسولی، الله تعالى له ګردو شيانو څخه په جلال، جمال، کمال، مثال او نورو مميزاتو (خصوصياتو) کې اولی، اعلى، ارفع او اقدس دی، چې د مخلوقاتو په وهم او تصوّر کې راتلی نشي.

ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ؕ هَلْ لَّكُمْ مِّنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ شُرَكَآءَ فِيْ مَا رَزَقْنٰكُمْ فَاَنْتُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ تَخَافُوْنَهُمْ كَخِيْفَتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۲۸﴾

بيانوي (الله) تاسې ته (ای مشرکانو) يو مثال له ځانونو ستاسې څخه (هغه مثال دا دی:) آيا شته له هغو مريانو چې مالکان شوي دي د هغو ښې لاسونه ستاسې څه شريکان (له تاسې سره) په هغه څه کې چې درکړی دی مونږ تاسې ته، پس تاسې (او دا مريان مو) په هغه (رزق) کې سره برابر يئ، چې ويرېږئ له هغو لکه ويرېدل ستاسې له نفسونو (د نورو اصيلانو شريکانو) خپلو؟، په مثل د دغه (تفصيل) په تفصيل سره بيانوو مونږ آيتونه لپاره (د هغه) قوم چې عقل لري (تدبّر کوي).

تفسير: يعني د شرک په قباحت او بطلان د پوهولو لپاره الله تعالى ستاسې له احوالو ځنې يو مثال راوړي او بيانوي، او هغه دا دى چې: ستاسې د لاس مال (يعني وينځه او مريي) چې تاسې د هغو ظاهري او مجازي مالکان او خاوندان يئ، په خپله هغه روزي او مال او متاع کې چې الله تعالى تاسې ته درکړى دى، آيا هغوى له خپلو ځانونو سره مساوي او برابر منلى شئ؟ لکه چې ستاسې په مشترکو مالونو جايدادونو او شتو کې ستاسې ورونه او نور اقارب او خپلوان سره شريکان دي، او تل داسې اند ښښنه درسره وي، نه چې په هغه مشترک مال کې څه ناجائزه تصرّف او مداخله ونه شي، او که داسې کوم لاسوهنه په هغه کې وشي؛ نو تاسې ترې متأثر او خپه کېږئ، او د هغه په ويش او ترکه کولو پسې لږېږئ، يا لږ تر لږه دغسې پوښتنه کوئ چې ولې ځما د اجازې او خوښې څخه پرته هغه کار يا تصرّف په دغه شي کې شوى دى؟ آيا کوم دغسې فکر کوم بادار ته د خپل مريي او خدمتګار په نسبت پيدا کېدى شي؟، او که نه شي پيدا کيدي نو څرنګه به يو مخلوق د الله تعالى سره په الوهيت کې شريک شي؟ داسې خبره يو عقلمن سړې له سره نه شي منلى.

بَلِ اتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَهْوَاءَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ فَمَن يَهْدِي مَنْ أَضَلَّ اللَّهُ ۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ ﴿٢٩﴾

بلکه متابعت کوي هغه کسان چې ظلم يې کړى دى (په شريک نيولو له الله سره) د آرزوګانو خپلو بې له علم (او حجّت) څخه، پس څوک به سمه صافه لاره وښيي هغه چاته چې ګمراه کړى وي (دى) الله؟ (بلکه هادي نه لري)، او نشته دوى لپاره هيڅوک له مرسته کوونکو (چې خلاص يې کړي له عذاب نه).

تفسير: يعني دغه بې انصافه خلق به په داسې ښکاره او څرګندو خبرو څرنګه وپوهيږي حال دا چې هغوى له سره نه غواړي چې ځان پرې وپوهوي؟ بلکه د جهالت او هواپرستى له سببه محض د اوهامو او نفسي غوښتنو په متابعت او پيروى کې مشغول او لګيا دي.

﴿فَمَن يَهْدِي﴾ الآية - «پس څوک به سمه صافه لاره وښيي هغه چا ته چې ګمراه کړى وى دى الله، بلکه هادي نه لري».

تنبيه: يعني هر هغه چا ته چې الله تعالى د ده د بې انصافى، جهل، او هواپرستى په سبب د حقې لارې تللو او پوهېدلو توفيق ور نه کړي؛ نو څوک به د دغې خبرې طاقت او توان ولري چې هغه پوه کړي او سمه لار ور وښيي؟ يا ورسره مرسته او معاونت وکړي؟ يا يې له ګمراهى او تباهى ځنې وژغوري، نو د داسې خلقو له طرفه زيات مه متحسر او مه خپه کېږه ! او له دوى ځنې قطع نظر وکړه، او بيخي الله تعالى ته متوجه اوسه ! او په خپل فطري دين ټينګ اوسه !.

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَاتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٣١﴾ مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا ۖ كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٣٢﴾

پس برابر کړه (اى محمده !) مخ خپل دين ته په داسې حال چې پر حق دين کلک ولاړ يې، لازم ونيسئ دين د الله هغه چې پيدا کړي دي (الله) خلق په هغه (دين)، مه بدلوئ تاسو هغه دين چې الله خلق پر هغه پيدا کړي دي (چې شريک له الله سره پيدا کړئ)، دا هم هغه دين سم دى (چې هيڅ کوږوالى په هغه کې نشته)، وليکن زياتره خلق نه پوهيږي (په توحيد د الله). حال دا

چې رجوع کوونکي يئ دغه (الله) ته او ويريږئ له الله او قائموئ (سم دروئ سره له ټولو حقوقو) لمونځ او مه کېږئ تاسې له مشرکانو. (يعنې) له هغو (مشرکانو) چې تار په تار کړی يې دی دين خپل او شوي وو دوی ډلې ډلې، هر يوه ډله (له دوی نه) په هغه (دين) چې له دوی سره دی خوشاله دي.

تفسير: يعنې هر هغه څوک چې له ګمراهۍ ځنې په هيڅ يو شان سره نه غواړي چې ووځي؛ نو هغه پرېږده چې د همدغه کفر او شرک په ختو کې ښېتې پروت وي، او ته له دوی نه مخ وګرځوه ! او يوائې له الله تعالی سره خپل تعلّقات ټينګ وساته ! او يوائې د هغه حق دين په پوره توجّه ټينګ ونيسه !.

﴿فِطْرَتَ اللّٰهِ﴾ «لازم ونيسئ تاسې دين د الله تعالی هغه چې پيدا کړي دي الله تعالی خلق په هغه دين» الله تعالی د انسان فطرت او جوړښت په ابتداء کې داسې ګرځولی دی، که دی وغواړي چې په حق ځان پوه کړي او ويې مني؛ نو ځان وربانديې پوهولی او منلی شي، ځکه چې د فطرت له ابتداء څخه يې د خپل اجمالي معرفت يوه سپرغی د ده په زړه کې د هدايت د تخم په شان شيندلې ده، که د اطرافو او شاو خوا د خرابو اثراتو څخه متأثر نشي، او په خپل اصلي طبيعت پرېښودل شي؛ نو يقيناً به حق دين اختيار کړي، او بل طرف ته به متوجه نشي، د «ألستُ» د عهد قصه همدغه طرف ته اشاره کوي، او په صحيحو احاديثو کې تصريح ده چې «هر مولود په فطرت د «اسلام» پيدا کيږي، وروسته مور او پلار يې دی يهودي يا نصراني يا مجوسي ګرځوي»، په يوه قُدسي حديث کې راغلي دي: «ما خپل بندګان (حنفاء) پيدا کړي دي، بيا شيطانانو دوی اغواء او له سمې لارې ايستلي دي»، په هر حال حق دي، حنيف دين، قيّم دين هغه دين دی؛ چې که انسان په خپل اصلي فطرت پرېښودلی شي؛ نو بالطبع هغه ته متمايل کيږي، د ټولو انسانانو فطرت الله تعالی همداسې پيدا کړی دی، چې په هغه کې له سره تفاوُت او تبديل نشته.

﴿لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ﴾ «نشته له سره بدلول دين د الله ته، او مه يې بدلوئ چې شريک ورسره پيدا کړئ !»، يعنې د اصلي پيدايښت په اعتبار هيڅ فرق او تغيير او تبديل په کې نشته، د هر انساني فرد فطرت د حق د قبول لپاره صالح او مستعد ګرځولی شوی دی، يا يې دا مطلب: په هر هغه فطرت چې الله تعالی خپل مخلوق پيدا کړی دی؛ تاسې په خپل واک او اختيار هغه مه بدلوئ !او مه يې خرابوئ ! هغه تخم او استعداد چې په تاسې کې کرلی شوی دی؛ هغه په خپلې بې توجې يا بې تميزۍ مه خرابوئ !.

﴿ذٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ﴾ «دا هم هغه دين سم دی چې هيڅ کوږوالی پر هغه کې نشته، وليکن زياتره خلق نه پوهيږي په توحيد د الله تعالی»، يعنې سمه لاره او حق دين همدغه د فطرت غږ دی، خو زياتره خلق په دغه نکته نه پوهيږی.

﴿مُنِيبِينَ إِلَيْهِ﴾ «حال دا چې تاسې رجوع کوونکي يئ دغه الله ته»، يعنې اصلي دين ټينګ ونيسئ ! او د هم هغه په طرف توبه او رجوع وکړئ ! که محض د دنيوي مصلحت لپاره مو دغه کار وکړ؛ نو دين به مو درست نه وي.

﴿مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ﴾ يعنې د دين الفطرت له اصولو څخه بېل پاتې شوي دي، او په خپلو اديانو او مذاهبو کې يې نفاق او تفرقه غورځولې ده، ډېرې فرقې يې جوړې کړي دي، د هرې يوې عقيدې، مذهب، مشرب او مسلک سره بېل او جلا دی، هر هغه چې په غلطه يا په هوا او هوس يې کومه عقيده قائمه کړه، يا کومه طريقه يې ايجاد کړه؛ نو يوه ټولنه په هغې پسې شوه، لږ څه موده وروسته له هغې څخه ډېرې فرقې جوړې شوې، بيا هره يوه فرقه په خپلو هم هغو ټاکلو اصولو او عقايدو که څه هم هغه ډېر چتې او مهمل هم وي؛ داسې مين ګرځيدلي دي؛ چې د خپلې غلطی د امکان تصور يې هم په ماغزو کې نه ګرځي.

وَإِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا أَذَاقَهُم مِّنْهُ رَحْمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾ لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ فَتَمَتَّعُوا فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾

او کله چې ورسيږي خلقو ته څه ضرر؛ نو بولي دوی رب خپل په داسې حال کې چې رجوع کوونکي وي خاص الله ته، بيا کله چې وځکوي (الله) دوی ته له خپله طرفه کوم رحمت؛ ناڅاپه يوه ډله له دوی نه له رب خپل سره شريکان نيسي. لپاره د دې چې ناشکري وکړي (او کافر شي) په هغو (نعمتونو) چې ورکړي دي مونږ دوی ته، پس ګټه اخلئ (ای کفارو څو ورځې)، پس ژر به معلوم کړئ تاسې (عاقبت د عمل خپل).

تفسير: يعنې څرنګه چې د هر انسان فطرت په ښو کارونو باندې پوهيږي؛ همدا راز د هر انسان فطرت الله تعالى ته په رجوع کولو هم پوهيږي، لکه چې دا حقيقت د سختۍ په وخت کې څرګندږي، ډېر لوی کبرجن او سرکښ انسان هم د مصيبت او غم په وخت کې بې اختياره الله تعالى ته رجوع کوي، او د ده په دربار کې په دعا او زارۍ شروع کوي، او په دغه وخت کې يې نور وړو کي وسايل له فکر وځي، او هم هغه واقعي او حقيقي مالك الملك يې په ياد پاتې کيږي، چې د هغه په طرف انساني فطرت لارښوونه کوي، مګر افسوس چې انسان په دغه حالت تر ډېر مودې پورې قايم نه پاتې کيږي، څه وخت چې د الله تعالى په لطف او مهربانۍ مصيبت ورڅخه لرې شي، بيا له الله تعالى څخه غافليږي، او د هم هغو باطلو معبودانو په ستاينو لګيا کيږي، ګواکې دوی د خپل دغه وضعيت څخه داسې څرګندوي چې دغه شی د همدغو عطا او ورکړه ده، او الله تعالى هيڅ شی مونږ ته نه دي راکړي (العياذ بالله)، ښه دې څو ورځې مزې کوي، وروسته به معلوميږي چې د دغه کُفر او ناشُکرۍ نتيجه څه کيږي؟.

أَمْ أَنزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطَانًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوا بِهِ يُشْرِكُونَ ﴿٣٥﴾

آيا نازل کړی مونږ په دوی کوم برهان علمي سند، پس هغه خبرې کوي په هغه چې وو دوی په هغه سره شريک پيدا کوي (له الله سره دوی، بلکه نه مو دی نازل کړی).

تفسير: يعنې د سليم عقل او انساني فطرت شهادت په صاف ډول سره د شرک او کفر تردید کوي، نو آيا دوی د هغه په خلاف کوم برهان، حجّت او علمي سند لري؟ چې دغه راوښيي چې د الله تعالى په الوهيت کې بل څوک هم د هغه شريک دی (معاذ الله)، کله چې هيڅوک نشته؛ نو د هغه د معبود ګرځولو استحقاق له کومه شو؟.

وَإِذَا أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوا بِهَا وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ ﴿٣٦﴾

او کله چې وځکوو مونږ په خلقو څه رحمت؛ نو خوشاله شي دوی په هغه، او که ورسيږي هغوی ته څه سختي په سبب د هغو (اعمالو) چې پخوا ليږلي دي لاسونو د دوی؛ ناڅاپه به بيا دوی ناهيده شي (د الله له رحمت څخه).

تفسير: يعنې د دغو خلقو عجيب حالت دی، کله چې د الله تعالى له رحمت مهربانۍ او احسان په عيش او عشرت کې له خوشالۍ په خپلو کاليو کې نه ځايږي، نو خپل حقيقي محسن بيخي هيروي، او که کوم وخت د خپلو اعمالو له شامته په کوم غم يا مصيبت کې اخته شي؛ نو بيخي ناهيده او مأيوس شي.

د مؤمن حال د ده په عکس دی، مؤمن په راحت او نعمت کې هم تل خپل حقيقي منعم يادوي، د الله تعالى له فضل څخه خوښی کوي او په زړه او ژبه او عمل سره د الله تعالى حمد او شکر اداء کوي، که په کوم غم او مصيبت کې

مبتلا شي؛ نو هغه په خورا صبر، تحمّل سره ګالي، او له پاک الله تعالی ځني په هغه کې خپل ځان ته مرسته غواړي، او تل دغسې هیله او امید په خپل زړه کې پالي، چې څومره لوی او سخت مصیبت هم چې وي؛ په یقیني ډول د الله تعالی فضل او کرم دغه ګرد سره په بل مخ اړولی شي.

تنبیه: یو آیت یې پخوا له دې نه ویلی وو چې: «خلق د تنګسې او سختۍ په وخت کې خالص د الله تعالی په دربار کې د عرض او نیاز غږ او آواز کوي»، دلته یې دغه وویل چې: «د سختۍ او بدۍ د رسېدلو په وخت کې دوی بې هیلې او ناامیده کیږي»، په دغو دواړو کې هیڅ اختلاف سره نشته، ډومبنی حالت یعنې د الله تعالی بلل ابتدایي منزل دی، بیا کله چې سختي او مصیبت اوږدیږي او امتداد مومي؛ نو بالآخره وارخطا او بې هیلې او ناامیده کیږي، یا به د ځینو خلقو احوال هغسې وي، او د ځینو احوال به داسې وي، والله أعلم.

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٣٧﴾

آیا نه وینې (نه دي خبر) دوی چې بېشکه الله پراخوي رزق هر هغه چا ته چې اراده وکړي، او تنګوي یې (هغه چا ته چې ویې غواړي)، بېشکه په دغه (بسط او قبض) کې خامخا دلائل دي لپاره د (هغه) قوم چې ایمان راوړي.

تفسیر: یعنې کامل ایمان او یقین لرونکی پوهیږي چې د دنیا سختي او نرمي او د روزۍ زیاتوالی او کموالی د پاک الله په لاس کې دي، نو هر هغه وضعیت او احوال چې ورباندې راشي؛ لازم دي چې بنده هغه په صبر او شکر سره ومني ! او په قضا سره خپله خوښي او رضاء ښکاره کړي !، د زحمت او مصیبت په وخت کې دې صبر او تحمّل وکړي ! او هیله من دې اوسي چې الله تعالی په خپل فضل او مرحمت سره دغه ټول زحمت او مصیبت له منځه لرې کوي.

فَآتِ ذَا الْقُرْبَىٰ حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٣٨﴾

پس ورکړه (ای مؤمنه !) خاوند د قرابت ته حق د ده (چې نیکي او صله رحمي ده) او محتاج ته او مسافر ته، دغه (ورکول د حقوقو) خیر، غوره دي (له امساک څخه) لپاره د هغو کسانو چې د الله تعالی مخ لیدل غواړي، او همدغه ورکوونکي (د حقوقو) هم دوی دي خلاصېدونکي بریالیان (کامیاب).

تفسیر: یعنې هر کله چې د فطرت په شهادت سره دغه ثابته شوه چې حقیقي معبود او رب العالمین هم هغه الله تعالی دی، او د دنیا ګرد نعمتونه د هم هغه پاک الله تعالی ورکړه او عطا ده؛ نو په هغو کسانو چې د ده د لقاء او د لیدلو آرزو او امید لري؛ لازم دي چې د ده د هغه عطاء او ورکړې ځني څه شی د ده په لاره کې صرف کړي !، او د مسافرانو، محتاجانو او بې وسو خپلوانو له احواله ځان خبر او هغوی له خپل ځان څخه خوشاله کړي ! او د خپلوانو حقوق درجه په درجه اداء کړي ! نو دغسې بندګانو ته الله تعالی په دنیا او آخرت کې خیر ور په برخه کوي.

وَمَا آتَيْتُم مِّن رِّبًا لِّيَرْبُوَا فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُو عِندَ اللَّهِ ۖ وَمَا آتَيْتُم مِّن زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ ﴿٣٩﴾

او هغه څه چې ورکوئ یې تاسې له سود نه لپاره د دې چې زیات شي په مالونو د خلقو کې؛ پس نه زیاتیږي هغه په نزد د الله، او هر هغه څه چې ورکوئ یې تاسې له زکات څخه چې اراده لرئ

تاسې په هغه سره د لقاء او د لیدلو د مخ د الله؛ پس دغه (محض لله ورکوونکي) هم دوی دي زیاتوونکي (د حسناتو خپلو).

تفسیر: یعنې که څه هم په سود سره ظاهراً د مال زیاتوالی ښکاري، لیکن په حقیقت کې هغه کمیږي، لکه چې د کوم انسان بدن د پرسو ب لامله غټ او څورب ښکاري، نو دغه د صحت او روغتیا علامه نه ده، بلکه د رنځورۍ نښه او د مرګ پیغام دی، او د زکات له ورکولو څخه اګر که په ښکاره ډول سره داسې ښکاري چې د هغه مال کمیږي؛ مګر هغه په حقیقت کې زیاتیږي، لکه چې د کوم مریض بدن له مسهل او تنقیي څخه وروسته ضعیف او ناتوانه ښکاري، مګر بالآخره د ده صحّت ښه کیږي، د سود او زکات حال د انجام په اعتبار همداسې وګڼئ: ﴿يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبٰوا وَيُرْبِي الصَّدَقٰتِ﴾ (د البقرې سورت (۳۸) رکوع، (۲۷۶) آیت)، په حدیث کې راغلي دي: «که د خُرما یوه دانه مؤمن په صدقه ورکړي؛ نو هغه د قیامت په ورځ دومره لوییږي چې د یوه غره په اندازه به لویه ښکاري).

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ یُمِیْتُكُمْ ثُمَّ یُحْیِیْكُمْ ؕ هَلْ مِنْ شُرَكَآىِٕكُمْ مَّنْ یَّفْعَلُ مِنْ ذٰلِكُمْ مِّنْ شَیْءٍ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ﴿۴۰﴾

الله هغه ذات دی چې پیدا کړي یې یئ تاسې، بیا یې روزي درکړې ده تاسې ته، بیا مړه کوي، بیا ژوندي کوي تاسې (په بعث)، آیا شته له دغو شریکانو ستاسې داسې څوک چې کولی شي هغه له دغو (څلورو واړو کارونو) څخه کوم شی؟ (بلکه نشي کولی)، پاکي ده الله ته او ډېر لوی پورته دی شان د الله له دې نه چې شریک پیدا کوي دوی (له الله سره).

تفسیر: یعنې وژل، ژوندي کول، روزي ورکول، نور ګرد شیان د الله تعالی په واک دي، نو بل شریک یې له کومه شو، او څرنګه د الوهیت مستحق وګرځېد؟.

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِی الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ اَیْدِی النَّاسِ لِیُذِیْقَهُمْ بَعْضَ الَّذِیْ عَمِلُوْا لَعَلَّهُمْ یَرْجِعُوْنَ ﴿۴۱﴾

ظاهر شو (آثار د) فساد په بر او بحر (په وچه او لونده) کې په سبب د هغې (ګناه او شرک) چې کړي دي لاسونو د خلقو، لپاره د دې چې وڅکوي (الله) دوی ته څه (سزا) د هغو (عملونو) چې کړي دي دوی، لپاره د دې چې واوړي دوی (له دغو بدیو نه).

تفسیر: یعنې خلق د فطرت په دین قائم پاتې نشول، کفر او ظلم په دنیا کې خپور شو، او د هغو له شامته په ملکونو او جزایرو کې خرابي او فساد خور شو، نه په وچه کې امن او سکون پاتې شو، او نه په لونده کې، د ځمکې مخ فتنې او فساد ونیو، بحري جنګونه او د جهازونو جنګونو او داړه ماریو په سمندرونو کې هم لوی شورماشور او طوفان ونښلاوه، دغه ګرد د دې لامله چې الله تعالی اراده وکړه چې بندګان یې د خپلو بدو اعمالو لږ څه خوند په دنیا کې هم وڅکي، پوره سزا خو دوی ته په آخرت کې ورکوله کیږي، مګر د هغې لږه نمونه په همدغه دنیا کې دوی ته ورښوولې کیږي، ممکن دي چې ځینې خلق وویریږي، او په سمه لاره روان شي.

قُلْ سِیْرُوْا فِی الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَیْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلُ ؕ كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّشْرِكِیْنَ ﴿۴۲﴾

ووایه (ای محمده ! مشرکانو ته) چې وګرځئ په ځمکه کې پس وګورئ څرنګه شوه خاتمه د هغو کسانو چې پخوا له دوی څخه وو، وو زیاتره د دوی مشرکان (نو د خپل شرک په سبب هلاک شول).

تفسیر: یعنې د زیاترو شامت د شرک په وجه راغلی دی، او د ځینو نورو به د نورو ګناهونو له سببه راغلی وي.

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ الْقَيِّمِ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ يَوْمٌ لَا مَرَدَّ لَهُ مِنَ اللَّهِ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴿٤٣﴾

پس برابر کړه مخ (وجود) خپل سم دین ته پخوا له هغه چې راشي هغه ورځ چې نشته هیڅ بېرته ګرځېدل هغې (ورځې) ته له (جانبه د) الله، په دغه ورځ کې به تار په تار شي دغه مخلوق (چې ځینې به جنّت ته ځي او ځینې به دوزخ ته).

تفسیر: یعنې په دنیا کې خو فتنه او فساد خپور شوی دی، نو تاسې پر سم او معتدل دین چې د فطرت دین دی، په ښه شان سره قایم او ټینګ اوسئ ! چې د ګردو خرابیو او مفاسدو علاج په همدغه دین سره دی، پخوا له هغه چې راشي هغه ورځ چې نشته هیڅ بېرته ګرځېدل هغې ته له جانبه د الله تعالی، یعنې د الله تعالی له طرفه د هغې راتلل قطعي او یقیني دي، او هیڅ یو قوت او طاقت د هغې مخه نشي نیولی، او نه به یې په خپله الله تعالی وځنډوي (تأخیر کړي)، په دغه ورځ کې به تار په تار شي دغه مخلوق، یعنې نېکان جنت او بدان دوزخ ته لیږي: ﴿فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ﴾ (د الشوری سورت (۱) رکوع، (۷) آیت (۲۵) جزء).

مَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِأَنْفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ ﴿٤٤﴾ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْ فَضْلِهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ ﴿٤٥﴾

هر څوک چې کافر شو؛ پس په هغه ده (سزا) د کُفر د هغه، او هر څوک چې وکړي (نېک عمل)؛ پس خاص لپاره د ځانونو خپلو فرشونه غوړوي او په زړه پورې سامانې جوړوي. لپاره د دې چې جزاء ورکړي (الله) هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی دی، او کړي یې دي ښه (عملونه) له فضله خپله څخه، بېشکه چې الله مینه محبت نه کوي له کافرانو سره.

تفسیر: یعنې هر څوک چې کافر شو؛ پس په هغه ده سزا د کفر د هغه چې د هغو ګناه او وبال به پرې لویږي، او هر څوک چې وکړي نېک عمل؛ پس خاص لپاره د ځانونو خپلو فرشونه غوړوي او په زړه پورې سامانې جوړوي، یعنې په جنّت کې د دوی د ارامۍ او هوسایۍ (راحت) لپاره تیاری کیږي، او لپاره د دې چې جزاء ورکړي الله تعالی هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی دی، او کړي یې دي ښه عملونه له فضل خپل څخه، یعنې هومره چې ښه او نېک وي؛ هغه ته به هم یواځې د الله تعالی په فضل او مرحمت سره جنّت ور په برخه کیږي.

وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ يُرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرَاتٍ وَلِيُذِيقَكُمْ مِنْ رَحْمَتِهِ وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ بِأَمْرِهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٤٦﴾

او ځینې له نښو د الله دا دي چې رالیږي بادونه زیری ورکوونکي او لپاره د دې چې وځکوي په تاسې (په سبب د دغو بادونو) ځینې (مزې) د رحمت خپل، او بل لپاره د دې چې روانه شي پرې بېړۍ په امر حکم د الله، او لپاره د دې چې طلب کړئ (په چلولو د بېړۍ) له فضل د الله څخه، او لپاره د دې چې تاسې شُکر وباسئ (په دغو نعمتونو).

تفسیر: یعنې بادونه د رحمت د باران زېری او بشارت راوړي، بیا الله تعالی په خپل لطف او مهرباني سره باران وروي، او رالیږي بادونه لپاره د دې چې روانه شي پرې بېړۍ په حکم امر د الله تعالی سره، یعنې بادوان لرونکي جهازونه او بېړۍ په باد سره چلیږي او درومي، او دخاني جهازونو او استمرونو ته هم د موافق باد له الوتلو څخه په تګ کې کومک او

معاونت رسيږي، او لپاره د دې چې طلب کړئ تاسې په چلولو د بېړۍ له ځينې له فضل د الله تعالى څخه، او لپاره د دې چې تاسې شکر وباسئ په دغو نعمتونو، يعنې د جهازونو په ذريعه تجارتي اموال منتقل او وړل کيږي، او د الله تعالى په فضل او مرحمت سره ډېره ښه ګټه (فائده) ترې اخيستل کېدى شي، بيا د الله تعالى په دغو نعمتونو په ښه شان سره د ده شُکر اداء کړئ !.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَاءُوهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَانتَقَمْنَا مِنَ الَّذِينَ أَجْرَمُوا ۖ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾

او خامخا په تحقيق ليږلي وو مونږ پخوا له تا (اى محمده ! نور) رسولان په طرف د قومونو د دوى ته، پس راغلل (دغه رسولان) دوى ته په معجزو ښکاره وو، پس بدل واخيست مونږ له هغو کسانو چې کافران شول (نو دوى مو هلاک کړل، او مؤمنانو ته مو نصرت ورکړ)، او دى حق (تفضّلاً) په مونږ نصرت د مؤمنانو.

تفسير: يعنې پخوا يې ويلي وو، چې مقبول او مردود سره بېل کړى شي، په منکرانو د دوى د ګناه وبال او سزا لويږي، او پاک الله د دوى سره مينه نه کوي، اوس دا ښکاره کوي چې د دغې خبرې اظهار به په دنيا کې هم کيږي، دا د الله تعالى عادت او وعده ده چې له مکذبينو او مجرمينو څخه ضرور انتقام اخلي، او کامل مؤمنان په خپلې مرستې او اعانت سره په دښمنانو غالبوي، په منځ کې د باران ذکر ځکه راغى؛ ځرنګه چې د رحمت باران د نزول څخه پخوا بادونه چليږي، همداسې د دين د غلبې علايم هم روښانه کيږي.

اللَّهُ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهُ فِي السَّمَاءِ كَيْفَ يَشَاءُ وَيَجْعَلُهُ كِسَفًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ ۖ فَإِذَا أَصَابَ بِهِ مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٤٨﴾

الله هغه ذات دى چې رالېږي بادونه پس پورته کوي (په هوا کې) ورېځې، پس خوروي دغه (ورېځې) په اسمان کې ځرنګه چې اراده وکړي (الله)، او ګرځوي دغه (ورېځې) توتې توتې لاندې باندې؛ پس وينې به ته (اى مخاطبه ! ځاځکي د) باران چې راوځي له منځه د دغې (ورېځې)، پس کله چې ورسوي دغه باران هغه چا ته چې اراده وکړي (الله) له بندګانو خپلو؛ ناڅاپه دوى خوشالېږي پرې (او زېرى پرې کوي).

تفسير: يعنې الله تعالى ورېځې اول يو لوري ته او وروسته بل لوري ته خپروي (خوروي) همداسې دين به هم منتشر او هر چېرې خپور (خور) کړي، لکه چې ويې هم کړل.

وَإِن كَانُوا مِن قَبْلِ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْهِم مِّن قَبْلِهِ لَمُبْلِسِينَ ﴿٤٩﴾

او بېشکه چې وو دوى پخوا له دې چې نازل کړى شوى وو په دوى (باران) پخوا له (ظهوره له) دې (ورېځې او باران) خامخا نااميده وو (له ورښت څخه يې).

تفسير: يعنې پخوا له دې نه خلق نااميده وو، تر دې چې د باران له راتګه لږ څه پخوا هم بيخي مايوس شوي وو، چې په دغه باران به دغه مړه ځمکه ژوندئ، ځنګه د انسان حال ډېرعجيب او غريب دى، په لږ وخت کې نااميده او خپه کيږي، بيا له لږ څخه وخت نه وروسته له ډېرې خوښۍ نه خاندي او خوشالېږي.

فَانْظُرْ إِلَىٰ آثَارِ رَحْمَتِ اللَّهِ كَيْفَ يُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحْيِي الْمَوْتَىٰ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾

نو وګوره (ای مخاطبه) نښې د رحمت (باران) د الله ته چې څرنګه ژوندي کوي دی دغه ځمکه په باران (د وښو په زرغونولو سره) وروسته له مړوالي او وچوالي د هغې، بېشکه دغه (ژوندی کوونکی د ځمکې) خامخا ژوندی کوونکی د مړو هم دی، او هغه (الله) په هر شي باندې ښه قادر دی (چې ځینې یې ژوندي کول او مړه کول دي).

تفسیر: یعنې څو ساعته پخوا له هر لوري خاورې او دوړې پورته کېدې، او ځمکه وچه، بې رونقه او مړه پرته وه، ناڅاپه د الله تعالی له مهربانۍ څخه ژوندی، شنه او زرغونه شوه، او دغه باران د ځمکې دغه پټ قوّتونه څرنګه ویښ او راژوندي کړل، همدغه حال دې په روحاني باران هم قیاس کړ شي، چې له هغه څخه به په مړو زړونو کې نوی روح پیدا شي، او د الله تعالی دغه ځمکه د ﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ﴾ له مړ ک څخه وروسته به بیا ژوندی کیږي، له هر طرفه به د الله تعالی د رحمت نښې او د دین آثار څرګندیږي، هغه استعداد او قابلیت چې د مودو راپه دېخوا په خاورو کې موجود وو؛ د رحمت د باران په ځاځکو سره یې تر او تازه څرګنده او ښکاره کوي، لکه چې الله تعالی د محمدي بعثت په وسیله دغه جلوه دنیا ته راښکاره کړه.

﴿إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحْيِي الْمَوْتَىٰ ۖ﴾ «بېشکه همدغه مُحیي الأرض خامخا ژوندی کوونکی د مړو هم دی، او همدغه الله تعالی په هر شي باندې چې اراده وکړي ښه قادر دی»، یعنې دلته به مړو زړونو ته روحاني ژوندون ورکړي، او د قیامت په ورځ به په مړو جسدونو کې بیا نوی روح اچوي، د الله تعالی د کامل قُدرت په مقابل کې هیڅ شی ګران او مشکل نه دی.

وَلَئِنْ أَرْسَلْنَا رِيحًا فَرَأَوْهُ مُصْفَرًّا لَّظَلُّوا مِن بَعْدِهِ يَكْفُرُونَ ﴿٥١﴾

او قسم دی که ولیږو مونږ باد (په شنه کښت ـ فصل)؛ پس وبه ویني دوی دا کښت تک زیړ؛ نو خامخا وبه ګرځي دوی وروسته له دغه زیړوالي کافران (په تېرو نعمتونو ای محمده !).

تفسیر: یعنې ړومبی ناامیده وو کله چې باران وشو، او وچه کلکه ځمکه ترې تکه شنه، ژوندی او زرغونه شوه، او خلق ترې خوښ او خوشاله شول، اوس که مونږ له هغه وروسته یو سخت باد والوځوو چې د هغه په اثر د دوی ګرد کښتونه په شینوالي کې وچ کلک او تک زیړ وګرځي؛ نو سمدلاسه د دغو خلقو وضعیت بدلیږي، او د الله تعالی ګرد احسانونه هیروي، او په کُفران او ناشکرۍ شروع کوي، لنډه دا چې د دوی شُکر ګزاري او ناشکري ټول د دنیوي اغراضو تابع دي، او دلته د دې په نسبت وایي: کله چې انسان د الله تعالی په فضل او احسان سره په خپل مقصد او مراد ورسېد؛ نو نه ښایي چې بې خوفه وګرځي، ځکه چې د ده قدرت راز راز (قسم قسم) څرګندیږي (ښکاره کیږي)، دا نه دي معلوم چې دغه درکړي نعمت کله در څخه ببرته واخلي؟

فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴿٥٢﴾ وَمَا أَنتَ بِهَادِ الْعُمْيِ عَن ضَلَالَتِهِمْ ۖ إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ﴿٥٣﴾

پس بېشکه ته نشې اورولې مړو ته (او دغه کفّار هم حکم د مړو لري)، او نشې اورولې ته کنړو ته غږ (د بللو) کله چې وګرځي دوی په داسې حال کې چې شا ګرځوونکي وي (تاته). او نه یې ته سمه لاره ښوونکی ړوندو ته له ګمراهۍ د دوی، نشې اورولې ته (د پوهې او منلو په اورولو

سره) مګر هغه چاته چې ایمان یې راوړی وي په نښو او آیتونو ځمونږ پس دوی مسلمانان غاړه ایښودونکي دي.

تفسیر: یعنې الله تعالی هر راز قُدرت لري، مړي ژوندي کولی شي، تاته د دغې خبرې قدرت نشته چې په مړو خپله خبره ومنلی شې، یا په کنړو خپله خبره واورولی شې، یا ړوندو ته سمه صافه لاره وښیي، خصوصًا کله چې دوی د اورېدلو او لیدلو اراده هم ونه لري، پس ته د دوی د دغه کُفر او ناشکرۍ څخه مه غمجن کېږه ! ستا کار یوائې تبلیغ او دعوت دی، که کوم بدبخت یې نه اوري، یا یې نه مني؛ نو له دغه څخه تاته څه نقصان نه پیښیږي، ستا خبره همغه څوک اورېدی شي چې ځمونږ په خبرو او ښکاره نښو یقین او باور لري، او د تسلیم او انقیاد په صفت موصوف وي.

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضَعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ ضَعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفًا وَّشَیْبَةً ؕ یَخْلُقُ مَا یَشَآءُ ۚ وَهُوَ الْعَلِیْمُ الْقَدِیْرُ ﴿۵۴﴾

الله هغه ذات دی چې پیدا کړي یې یئ تاسې له کمزوري (شي څخه چې نطفه ده)، بیا یې درکړی دی وروسته له بل ضعف (د طفولیت) قوّت (د ځوانی)، بیا یې درکړی دی وروسته له قوّت (د ځلمیتوبه) ضعف او د ویښتو سپینوالی، پیدا کوي الله هر هغه شی چې اراده وکړي (د پیدایښت د هغه)، او همدغه (الله) ښه عالم دی ښه قادر دی (په هر شي).

تفسیر: یعنې کوچنی د پیدایښت په وخت کې بې حده کمزور او ناتوانه وي، بیا ورو ورو قوت مومي، تر دې چې د ځلمیتوب په وخت کې د ده زور او قوّت خپل انتهایي حد ته ورسیږي، او د ټول زور او قوت ترقي د ځلمیتوب په وخت کې وي، بیا ورو ورو عمر مخ په زوړوالي درومي، او له زور او قوّت نه وروسته د کمزورۍ آثار څرګندیږي، چې د هغې انتهایي حد سپین ګیرتوب او زوړوالی دی، په دغه وخت کې ګرد اعضاء سست او کمزوري کیږي، او په قوتونو کې فُتور او تعطیل واقع کیږي، د قوّت او ضعف دغه ګردې ترقي او تنّزل د پاک الله تعالی په لاس کې دي، هر قسم چې د الله تعالی اراده وي؛ هم هغسې یو شی جوړوي، او هغه د ضعف او قوّت له مختلفو ادوارو څخه تیروي، همدغه الله تعالی ته هر نوع قوت او قدرت حاصل دی، او همدغه الله تعالی ښه پوه او ښه عالم دی، چې کوم یو شی په کوم وخت کې او په کومو کومو حالاتو کې په څه ډول سره ښایي چې موجود وي؟.

نو په مونږ واجب او لازم دي چې د همدغه الله تعالی جلّ و أعلی شأنُه وأعظم برهانُه او د ده د رسولانو خبرې په ښه شان سره واورو.

وَیَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ یُقْسِمُ الْمُجْرِمُوْنَ ۙ مَا لَبِثُوْا غَیْرَ سَاعَةٍ ؕ

او په هغې ورځې کې چې قایم شي قیامت؛ نو قسمونه به خوري مجرمان (کافران په دې) چې نه دي پاتې شوي (په دنیا کې) غیر له یو ساعته.

تفسیر: یعنې په قبر یا په دنیا کې به هستوګنه ورته ډېره لږه ښکاري، څه وخت چې غم او مصیبت د ده په سر باندې ولویږي، او دی ورته ګوري؛ نو په ډېر افسوس او ارمان سره به ووایي چې: د برزخ او د دنیا ژوندون ډېر ژر راباندې تېر شو، او لږ څه ډیل او مهلت را په برخه نشو، چې په هغه کې مو د دغه دردوونکي عذاب څخه د نجات لپاره څه سعي او کوښښ کړی وی، یا په دنیا کې لږ ډېره موده پاتې کیدو، څو د دغې ورځې لپاره مو څه تهیه او تیاري کړي وی، دغه مصیبت خو یو ناڅاپه راته پېښ شو.

كَذٰلِكَ كَانُوْا يُؤْفَكُوْنَ ﴿۵۵﴾

همدارنګه (چې دوی دروغ وایي په آخرت کې) وو دوی چې ګرځول کېدل به (له رښتیا نه په دنیا کې).

تفسیر: یعنې لکه چې هم هغلته د دوی داسې ویناوې به غلطې او دروغ وي، همداسې وپوهېږئ چې په دنیا کې به هم دغه خلق چتې او غلط خیالات او معکوسې او منقلبې خبرې او اترې به سره کوي.

وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ وَالْاِيْمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ اِلٰى يَوْمِ الْبَعْثِ ۚ فَهٰذَا يَوْمُ الْبَعْثِ وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۵۶﴾

او وایي به دوی ته هغه کسان چې ورکړی شوی وو دوی ته علم او ایمان (یعنې انبیاء، پرښتې، مؤمنان چې: ولې دروغ وایئ بلکه) خامخا په تحقیق ډېر پاتې شوي یئ (په دنیا کې چې هغه لیکلي دي) په کتاب د الله (لوح محفوظ) کې تر ورځې د بعث پورې، پس دغه ده ورځ د بعث (چې تاسې تریې منکران وئ) ولیکن تاسې وئ تاسې په دنیا کې چې د جهل او غفلت لامله نه پوهېدئ (د دغې ورځې په وقوع).

تفسیر: یعنې مؤمنان او پرښتې به په دغه وخت کې د دوی تردید کوي، او دوی ته به داسې وایي چې: تاسې دروغ او خوشې چتې خبرې کوئ، یا په مغالطه کې لویدلي یئ چې مونږ په برزخ یا په دنیا کې له یو (۱) ساعت څخه زیات نه یو پاتې شوي، تاسې د الله تعالی د علم او د ده د خبر او د لوح محفوظ د لیکنې سره سم د قیامت تر ورځې پورې په دنیا او په برزخ کې اوسیدلي یئ، چې د یوې شېبې په اندازه هم په هغه کې څه کمی نه دی واقع شوی، نن له هم هغې وعدې سره سم هغه ورځ رارسېدلې ده، اوس هغه وګورئ چې تاسې پرې نه پوهېدئ او نه مو منله، که له پخوا څخه مو په دغې ورځې یقین کړی وی، او له تیارئ سره ورته راغلي وی؛ نو د دغه ځای له لذتونو او مسرتونو څخه به محظوظ او متمتع شوي وی، او د دغو انعامونو او اکرامونو د لیدلو په مقابل کې به مو داسې ویل چې: دغه ورځ په ډېر ځنډ او ډیل راغلې ده، او مونږ د دې د راتللو ډېر انتظار او اشتیاق ویستلی دی، لکه چې مؤمنان یې همداسې ګڼي.

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۵۷﴾

پس دغې ورځې کې به نه رسوي ګټه هغو کسانو ته چې ظلم کړی دی دوی (په ځانونو خپلو په کفر سره) عذر د دوی، او نه به دوی وبللی شي راضي کولو د الله ته (یا به نه له دوی نه معذرت غوښتلی کیږي).

تفسیر: یعنې نه به کوم معقول عذر وړاندې کولی شي، چې د دوی په کار ورشي، او نه به دوی ته داسې ویل کیږي: ښه ده، اوس د توبې او اطاعت په ذریعه د الله تعالی خوښي او رضا حاصله کړئ !، ځکه چې د هغو وخت تېر شوی دی، او اوس پرته له دې نه چې دایمي سزا وګالئ؛ بل هیڅ یوه چاره اومخلص نه دی پاتې.

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ۭ وَلَىِٕنْ جِئْتَهُمْ بِاٰيَةٍ لَّيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُبْطِلُوْنَ ﴿۵۸﴾

او خامخا په تحقیق بیان کړي دي مونږ لپاره د خلقو په دغه قرآن کې له هر قسم مثال (چې مفید واقع کیږي دوی ته)، او (قسم دی ای محمده !) که راوړې ته دوی ته کوم آیت د قُدرت؛ نو

خامخا وبه وايي هرومرو هغه كسان چې كافران شوي دي (عنادًا) چې: نه يئ تاسو (ای محمده ! او مؤمنانو !) مګر (دروغجنان) باطل ويونكي.

تفسير: يعنې په دغه وخت كې به ډېر افسوس او ارمان كوي، مګر نن چې د الله تعالى د خوښې، رضاء او لقاء حاصلولو وخت او موقع ده، او عظيم الشأن قرآن دوى ته داسې عجيب مثالونه او دليلونه بيانوي، او راز راز خبرې ورته كوي، او په هره ممكنه طريقه سره يې په خپل خير او شر پوهوي؛ خو سره له هغه هم دوى په هغو باندې خپل ځان نه پوهوي، او نه د هغو هيڅ يو پند او خبره اوري، څومره مهم او عالي آيتونه چې دوى ته واوروئ يا ډېر لوى اوصاف او څرګند معجزات وښكاره كړئ؛ نو دوى د هغو په اورېدلو او ليدلو داسې وايي چې: تاسې رسول الله او مسلمين ګردو لاسونه سره يو كړي دي، او دغه دروغ مو (العياذ بالله) له خپله ځانه جوړ كړي دي، يو تن مو څو آيتونه جوړوي او درلولي يې، او نور د هغه تصديق كوئ، يو جادو او كوډې كوي، او نور دغه ته تيار ولاړ دي چې په هغه ايمان راوړي، په دغه ډول مو ګردو سره يو تړون كړى دى، او يوه اتحاديه مو سره جوړه كړې ده، او غواړئ چې په دغه چل سره خپل مذهب او مسلك خپور كړئ.

كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٩﴾

همدارنګه مهر لګوي الله په زړونو د هغو كسانو چې نه پوهيږي (او نه د پوهې غوښتنه كوي).

تفسير: يعنې هغه انسان چې نه پوهيږي، او نه د پوهېدلو لپاره زيار او كوښښ كوي، او د ضد او عناد له سببه خامخا د هرې خبرې ترديد او انكار ته هم تيار ولاړ وي؛ نو د دغه وضعيت دوام ورو ورو په تدريجي توګه د ده زړه كلكوي، او د شرك، شك، ترديد او انكار مهر پرې لګوي، او بالآخر د ډېر ضد او عناد له سببه د ده زړه دومره سخت شي، چې د حق د منلو قوت او استعداد په كې بيخي پاتې نشي (العياذ بالله).

فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِيْنَ لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿٦٠﴾

پس صبر كوه (ای محمده ! په ضرر د دوى) بېشكه چې وعده (د نصرت) د الله حقه ده، او بې همته نه كړي تا لره هغه كسان چې يقين نه راوړي (په آخرت) !.

تفسير: يعنې كله چې د دغو بدبختانو د ضد، عناد، او تكرار احوال او مقدار تر دغو درجو پورې ورسېدل؛ نو ته د دوى له دغه شرارت، بغاوت، او طغيان څخه مه خپه كېږه ! بلكه د پېغمبرۍ په صبر، تحمل او حلم سره ورنه تېرېږه ! او په خپل دعوت، تبليغ، پند او نصيحت كې مشغول او لګيا اوسه، هغه د فتحې او نصرت وعده چې له تا سره رب العزّت كړې ده، هغه په يقيني ډول كامله او پوره كېدونكې ده، او په هغه كې د يوې ذرې په اندازه هم څه تفاوت او تخلف واقع كېدى نشي، ته په خپل كار تل ټينګ اوسه ! دغه بد عقيده او بې يقينه خلق د يوې ذرې په اندازه هم تا له خپله ځايه نشي خوځولى.

تمت سورة الروم بعون الله الحي القيوم، فله الحمدُ والمنة أولا وآخرا وظاهرا وباطنا.

سُورَةُ لُقمَانَ

«د لقمان سورت مکي دی پرته له (۲۷، ۲۸، ۲۹) آیتونو نه چې مدني دي، (۳۴) آیتونه او (۴) رکوع لري، په تلاوت کې (۳۱) او په نزول کې (۵۷) سورت دی، وروسته د الصافات له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

الٓمٓ ﴿۱﴾ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْحَكِيمِ ﴿۲﴾ هُدًى وَرَحْمَةً لِلْمُحْسِنِينَ ﴿۳﴾ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴿۴﴾ أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿۵﴾

دا آیتونه د کتاب حکمت لرونکي (محکم قرآن) دي. په داسې حال کې چې هدایت او رحمت دی لپاره د نېکوکارانو. هغه کسان چې قائموي (سم اداء کوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ او ورکوي دوی (واجب) زکات، او دوی په آخرت باندې همدوی یقین کوي (چې خامخا راځي په حقه سره). دغه (ستایلي شوي کسان) په سمه لاره دي له (طرفه) د رب د دوی، او دغه (کسان) هم دوی په مراد رسیدلي دي.

تفسیر: دغه کتاب خاص د نېکانو لپاره د رحمت او هدایت پانګه ده، ځکه چې همدغه خلق ورنه ګټه اخلي، که نه نو په نفس نصیحت او پوهولو کې ذکر د جن او انس په حق کې ښکاره هدایت او رحمت دی، د «سورة البقرة» په اوله رکوع کې همداسې نور آیتونه هم تیر شوي دي، او د ﴿هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ دوه ترجمې شوي دي، دلته دې هم هغه بیا وکتل شي !.

وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿۶﴾

او (ځینې) له خلقو څخه هغه څوک دي چې اخلي عبثې خبرې لپاره د دې چې وښویوي (خلق) له لارې د الله نه بې له علمه (په عاقبت د فعل خپل)، او چې ونیسي دا (لاره یا آیتونه) په ټوکو مسخرو، دغه (کسان) شته دوی ته عذاب سپکوونکی.

تفسیر: د مفلحینو نېکبختانو په مقابل کې دلته د هغو بدبختانو ذکر دی، چې د خپل جهالت او نادانۍ او آخرې خاتمې ته د نه کتلو له امله یې قرآنکریم پرې ایښی، په لوبو، لهوو، لعبو یا په نورو واهیاتو او خرافاتو کې مستغرق دی، غواړي چې نور هم په همداسې مشغولیتونو او ساعت تېریو کې مشغول او لګیا او د الله تعالی له دین او یاد څخه غافل او بې پروا کړي، او د الله تعالی یاد تر ې هېر کړي، او په دیني خبرو پورې خاندې او پرې مسخرې او ملنډې وهي، حسن بصري رضي الله تعالی عنه د «لهو الحدیث» په متعلق وایي: «هر هغه شی چې د الله تعالی له عبادت او له یاد څخه لرې کوونکی وي؛ مثلاً فضولي قصې ویل، چټې د خندا او ټوکو خبرې، چټې کارونه، ساز او سرود او نور».

په روایتونو کې راغلي دي چې «نضر بن حارث» چې د کفارو له مشرانو څخه وو، کله چې به د تجارت لپاره پارس ته تلو؛ نو له هغه ځای به یې د عجمو باچایانو قصې او د تواریخو کتابونه له خپله ځانه سره راوړل، او قُریشو ته

به يې ويل چې: محمد صلى الله عليه وسلم تاسې ته د عاد او ثمود قصې اوروي، رائځ چې زه به تاسې ته د رُستم او د اسفنديار او د آريانا د باچايانو قصې واوروم، ځينو خلقو هغه قصې ښې او په زړه پورې ګڼلې، او ورته به متوجه کېدل، هغه يوه سندرغاړې وينځه هم پېرودلې وه، کله چې ده ليدل چې د کوم سړي زړه نرم او اسلام ته لږ څه متمايل شوی دی؛ نو هغه به يې د هغې سندرغاړې کره لېږه، او ورته ويل به يې چې: دغه ته ښه ډوډۍ او د څښلو شيان ورکوه، او ښې بدلې ورته اوروه !، بيا به يې دغه سړي ته ويل چې: ګوره دغه مېلې او چرچې له هغه څخه ډېرې ښې او بهترې دي چې محمد صلى الله عليه وسلم دې هغه لوري ته بولي، چې لمونځ کوه ! روژې نيسه ! ځان دې په شهادت ورسوه ! نو په دغه باندې دا آيتونه نازل شول.

تنبيه: ددغه آيت شان نزول اګر که خاص دی، مګر د الفاظو د عموميت له وجې يې حکم عام دی، هغه لهو چې داسلامي دين ځنې د خلقو اړوونکی وي، يا د اړولو له موجباتو څخه وي؛ ممنوع او حرام بلکه کُفر دی، او هغه شيان چې د ضروري شرعي احکامو څخه انسان ستنوي (منع کوي) يا د معصيت سبب ګرځي؛ ګناه او معصيت دی، هو ! هغه لهو چې د کوم واجب امر مانع نه وي، او کوم شرعي غرض او مصلحت په هغه کې نه وي؛ هغه مباح دی، ليکن د لايعني والي له سببه خلاف الأولىٰ دی، آس ځغلول، غشي اونورې ننبې ويشتل يا د زوجينو ملاعبت چې په شرعي حدودو کې وي؛ ځرنګه چې په معتد به شرعي اغراضو او مصالحو مشتمل دي؛ نو ځکه د باطل لهو څخه مستثنى ګرځول شوي شوي.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا وَلَّىٰ مُسْتَكْبِرًا كَأَن لَّمْ يَسْمَعْهَا كَأَنَّ فِي أُذُنَيْهِ وَقْرًا ۖ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٧﴾

او کله چې ولوستل شي په ده باندې آيتونه (د قرآن) ځمونږ؛ نو وګرځوي تری مخ حال دا چې متکبّر غاړه غړوونکی وي داسې چې ګواکې له سره يې نه دي اورېدلي، ګواکې په دواړو غوږونو د ده کې دروندوالی، کوڼوالی دی، پس زېرې، خبر ورکړه ته هغه ته په عذاب دردناک سره.

تفسير: يعنې د غرور او تکبّر له سببه نه غواړي چې ځمونږ آيتونه واوري، بلکه د هغه په مقابل کې بيخي ځان کوڼ اچوي.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتُ النَّعِيمِ ﴿٨﴾ خَالِدِينَ فِيهَا ۖ وَعْدَ اللَّهِ حَقًّا ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٩﴾

بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، او کړي يې دي ښه (عملونه)؛ شته دوی لره جنّتونه د نعمتونو. حال دا چې تل به وي دوی په دغو (جنتونو) کې، (دغه وعده کړې ده) وعده د الله حقه رښتيا، او همدی دی ښه غالب قوي (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت لرونکی (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: يعنې هيڅ يو قوّت دی د وعدې له سر ته رسولو څخه نشي ستنولی، او نه له چا سره بې موقعه وعده کوي.

خَلَقَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا

پيدا کړي دي (الله) اسمانونه بې له ستنو چې وينئ تاسې هغه.

تفسير: د دغه (عمد) د لفظ تفسير د «الرعد» د سورت په اوله کې تېر شو، هلته دې وکتل شي.

وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ

او ایښي (پیدا کړي یې دي) په ځمکه کې غرونه لپاره د دې چې ونه خوځیږي دا ځمکه پر تاسې.

تفسیر: یعنې د ځمکې د انتظام او استقرار لپاره خورا لوی او درانه غرونه پرې درولی شوي دي، چې د سمندر له موجونو یا د سختې هوا له جټکو یا د نورو طبیعیه اسبابو له اثره ونه لړزیږي، او یوې خوا ته مائله نشي، د «نحل» په اوله کې دغه مضمون پخوا له دې نه تېر شوی دی، باقي د غرونو د پیدا کېدلو مصلحت یوائې پر هم دغومره حکمت محدود او منحصر نه دی، نور داسې ډېر فوائد او حکمتونه هم په کې مضمر او موجود دي، چې هغه ځکه پاک الله ته معلوم او ښکاره دي.

وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَابَّةٍ ۚ وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَنبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ ﴿١٠﴾

او ویې شیندل (خواره واره یې کړل) په دغه ځمکه کې له هر قسم خوځېدونکو ساکښو (جاندارو) څخه، او نازلې کړي دي مونږ له (طرفه) د اسمانه اوبه؛ پس زرغونې کړي دي مونږ په دغه (ځمکه) کې له هر هر قسمه ګیاه ښې (خاصې جوړې).

تفسیر: یعنې هر قسم ښایسته، ښکلي، ګټور، او نفیسې ونې یې په ځمکه کې زرغونې کړي دي، د «الشعراء» د سورت په شروع کې په همدغه مضمون یو بل آیت هم تېر شوی دی، هلته دې وکتل شي !.

هَٰذَا خَلْقُ اللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ الَّذِينَ مِن دُونِهِ ۚ بَلِ الظَّالِمُونَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿١١﴾

دغه (ټول مذکوره شیان) مخلوق د الله تعالی دي، پس وښیئ (ای مشرکانو !) ماته هغه شی چې پیدا کړی دی هغو معبودانو بې له الله نه، بلکه دغه ظالمان مشرکان په ګمراهۍ ښکاره کې دي.

تفسیر: کله چې د هغو مخلوق نشئ رابښوولی؛ نو په کوم مخ او خوله هغوی د الله تعالی شریکان ګرځوئ؟ او د معبودیت وړ او مستحق یې بولئ؟ معبود خو داسې یو جامع الصّفات ذات کېدی شي، چې د هغه په واک او قدرت کې پیدا کول، وژل، روزي رسول او نور ټول شیان وي، مګر دلته دوی د پیدا کولو او د نورو افعالو یوه ذره اختیار هم نه لري، مګر دغه ظالمان د فکر، ذکر، غور او دقّت سره هیڅ علاقه او ارتباط نه لري، په توره تیاره کې پراته دي، او حیران او سرګردانه ګرځي.

وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ أَنِ اشْكُرْ لِلَّهِ ۚ وَمَن يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ ۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿١٢﴾

او خامخا په تحقیق ورکړی وو مونږ لقمان ته حکمت (عقل، علم او ویلي وو مونږ ده ته) چې شکر کوه الله ته، او هر چا چې شکر وکړ؛ پس بېشکه همدا خبره ده چې شکر کوي لپاره (د ښېګڼې) د ځان خپل، او هر څوک چې کافر شو؛ پس بېشکه الله غني ډېر بې پروا د ځکردو محامدو ځښتن دی.

تفسیر: د زیاترو علماوو رایه داسې ده چې: لُقمان علیه السلام نبي نه وو، هو ! یو پاک او متقي انسان وو، چې الله تعالی ورته اعلی درجه عقل، فهم، متانت او پوهه ورکړې وه، د ده د عقل او پوهې نصایح او د حکمت خبرې په خلقو کې له قدیم الأیامه معروفې او مشهورې وې، رب العزّت د هغو یوه برخه په خپل عظیم الشأن قرآن کې هم نقلوي، او د ده مرتبه لازیاتوي، ښایي له دې نه مطلب دا وي چې د شرک، کفر او عصیان قباحت هم هغسې چې د انساني فطرت په شهادت او د انبیاء الله له وحي ثابت دی؛ د دنیا د غورو او منتخبو عاقلانو او فاضلانو مفکوره او مقوله هم د هغه تأیید

او تصدیق کوي، پس کفّار ولې د توحید څخه ښزاره او کفر او شرک یې ځان ته غوره کړی دی؟ او د دوی دغه وضعیت که ښکاره ګمراهي نه ده نو بل څه شی دی؟.

﴿وَمَنْ يَّشْكُرْ فَاِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ﴾ یعنې پر دغه لوی احسان او نورو احساناتو ښایي چې د حقیقي منعم شکر اداء او د ده حق پېژندل ضروري وګڼل شي، لیکن دغه خبره دې واضحه وي چې د دغه حق پېژندلو او شکر ایستلو څخه الله تعالی ته هیڅ یوه فائده نه رسیږي، هو ! هغومره ګټه او نفعه چې رسیږي؛ پخپله همدغه شاکر ته رسیږي، چې په دنیا کې ډېر انعام او اکرام، او په آخرت کې اجر، ثواب او ښه مقام یې ور په برخه کیږي.

که دوی ناشکري او کُفران کوي؛ نو خپل ځان ته تاوان رسوي، الله تعالی داسې شکر ګزاریو ته هیڅ ضرورت او احتیاج نه لري، د الله تعالی په حمد او ثناء کې د دنیا ټول مخلوقات د حال په ژبه مشغول او لګیا دي، او په فرض محال که کوم حامد او ثنا ویونکی له سره هم نه وي؛ خو بیا هم پاک الله د خپل جامع الصفات او منبع الکمالات والي په بناء پخپله محمود دی، او د چا د حمد او شکر کولو یا نه کولو څخه د ده په کمالاتو کې د یوې ذرې په اندازه هم څه زیاتی او کمی نه پیښیږي.

وَاِذْ قَالَ لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ وَهُوَ يَعِظُهٗ يٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۳﴾

او یاد کړه (ای محمده ! هغه وخت) چې وویل لقمان ځوی خپل ته حال دا چې ده پند ورکاوه ده ته: ای بچوړیه ځما ! شریک مه ګرځوه له الله سره، بېشکه چې شرک خامخا ظلم دی ډېر لوی.

تفسیر: له دې نه به بله بې انصافي څه وي چې عاجز مخلوق ته د مختار خالق درجه ورکړی شي؟ او له دې نه به زیات حماقت او ظلم په خپل ځان بل څه وي چې له أشرف المخلوقات والي سره سره د ډېرو خسیسو او سپکو شیانو په مقابل کې د خپل عُبودیت سر ښکته کړي؟ لا حول ولا قوة إلا بالله العلي العظیم.

وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ ۚ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ وَهْنًا عَلٰى وَهْنٍ وَّفِصٰلُهٗ فِيْ عَامَيْنِ اَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ ؕ اِلَيَّ الْمَصِيْرُ ﴿۱۴﴾

او وصیت، امر کړی دی مونږ انسان ته له مور او پلار خپل سره (په نېکۍ کولو، ځکه چې په نس کې) ګرځاوه ده لره مور د ده په سستۍ سره له پاسه د بلې سستۍ، او ېېلول د ده دي (له تي نه) په (پوره کېدلو د) دوو کلونو کې، (او ورته ویلي دي مونږ داسې) چې شکر کوه ماته او مور پلار خپل ته ! خاص بیا ماته دي راتله (ستاسو ای انسانانو !).

تفسیر: یعنې د مور حق له پلار نه هم زیات دی، ځکه چې مور تر څو میاشتو پورې دې په خپله ګېډه کې ګرځوي، بیا د حمل له وضعې نه وروسته تر دوو کلونو پورې تې ورته ورکوي، او د ده د تربیې او پاللو په ضمن کې راز راز تکالیف او ربړونه ګالي، او زحمتونه او تکالیف په ځان اخلي، او خپله آرامي او هوسایي تړې جاروي، نو ضروري ده چې هر انسان ړومبی د الله تعالی او بیا د خپل مور او پلار حقوق په مخصوص ډول سره وپېژني، او په ځای یې کړي، یعنې د الله تعالی عبادت وکړئ ! او د مور او پلار په خدمت او اطاعت کې له توان سره سم بوخت اوسئ ! او له سره تړې غاړه مه غړوئ ! خو تر هغې پورې چې د الله تعالی معصیت ته مفضي نشي، ځکه چې د الله تعالی حق په دوی مقدم دی، او د ده په حضور کې تاسې او دوی ګرد سره حاضر ېرئ، نو ښایي چې انسان دې په خپل زړه کې ښه فکر او غور وکړي، چې په کوم مخ او خوله به دی له پاک الله سره مخامخ کیږي.

وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا ۖ وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ ۚ

او که کوښښ وکړي دا مور او پلار په تا په دې چې شریک کړې ته له ما سره هغه شی چې نه وي تاته په هغه سره څه علم پوهه؛ نو اطاعت مه کوه د دې دواړو، او ملګرتیا کوه له دوی سره په دنیا کې ښه غوره (ملګرتیا له شرعي سره سمه)، او متابعت کوه په دین کې د لارې د هغه چا چې ببرته راګرځیدلي دي ماته (په توحید سره).

تفسیر: د دین په خلاف د مور او پلار وینا مه منه ! هو ! په دنیوي معاملاتو کې له هغوی سره نېکي او ښه سلوک کوه ! په همدغه مضمون یو بل آیت هم د «العنکبوت» په سورت کې تېر شوی دی، د هغه تفسیر دې هلته ولوستل شي ! د انبیاوو او مخلصو بندګانو په لاره درومه ! او د دین په خلاف د خپل مور او پلار تقلید او اطاعت مه کوه !.

ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٥﴾

بیا (خاص) ماته راتله ستاسې دي (د ټولو په قیامت کې د حساب لپاره)، پس خبر به کړم زه تاسې په هغو عملونو چې وئ تاسې چې کول به تاسې (په دنیا کې له خیر او شر نه).

تفسیر: یعنې وروسته له دې نه چې د الله تعالی دربار ته ورسېرئ؛ نو اولاد او والدینو او نورو ګردو ته به دغه خبره معلومه او څرګنده شي چې کوم یو متجاوز او مقصر وو؟.

تنبیه: له ﴿وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ﴾ څخه تر دې ځای پورې د الله تعالی کلام دی، ړومبی خپل ځوی ته د لقمان وصیت وو، او وروسته هم له ﴿يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِنْ تَكُ﴾ څخه د همدغه وصیت سلسله ده، په منځ کې الله تعالی له خپلې خوا یو ضروري تنبیه وکړه، یعنې شرک دومره سخت او قبیح شی دی، تر دې چې که مور او پلار خپل اولاد پرې مجبور کړي؛ خو بیا یې هم څوک نشي غوره کولی.

يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمَاوَاتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللَّهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴿١٦﴾

ای ځوی ګوتیه ځما ! بېشکه دا (د بدۍ او نېکۍ خصلت) که کوم شی وي په قدر د دانې له اوري څخه، پس وی دا دانه په کومې تیږې (ګټې) کې یا وی په اسمانونو کې یا په ځمکې کې (چې هیڅوک پرې خبر نه وی)؛ نو رابه یې وړي الله (حساب کتاب ته)، بېشکه الله ښه باریک لیدونکی ښه خبردار دی.

تفسیر: یعنې کوم شی یا کوم خصلت ښه وي یا بد، که د اوري په اندازه وړوکی هم وي، او فرض یې کړئ چې په کومې لوی غټې تیږې کې یا د اسمانونو له پاسه یا د ځمکې په تیارو کې ایښودل شوی وي؛ هغه هم له الله تعالی څخه پټ نشي پاتې کېدی، هر کله چې وخت راشي؛ هغه به له هم هغه ځایه هر چېرې چې اراده وکړي راحاضر کړي، نو ځکه هر انسان ته لازمه او ضروري ده چې دغه خبرې دې تر نظر لاندې ونیسي، هر هغه کار چې په زرهاوو پردو کې دننه هم وشي، هغه الله تعالی ته حاضر او دی ورته ناظر دی، لکه چې نیکي یا بدي چې په هر څومره پټ ځای کې وکړی شي؛ د هغې اثر ضرور څرګندېدونکی دی، او اهل النظر هغه بې تکلّفه محسوسولی شي.

يٰبُنَيَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ وَاْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ

ای ځوی ګوټیه ځما ! قائموه (سم ودروه سره له ټولو حقوقو) لمونځ او امر کوه (خلقو ته) په نېکۍ او منع کوه خلق له بدۍ نه.

تفسیر: یعنې ته پخپله هم د الله تعالی پر توحید او بندګۍ قایم اوسه ! او هم نورو ته نصیحت کوه، چې ښې خبرې زده کړې، او له بدو او خرابو خبرو څخه ځان وساتې !.

وَاصْبِرْ عَلٰى مَآ اَصَابَكَ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۱۷﴾

او صبر کوه په هغې سختۍ چې رسېږي تاته (بالخاصه په امر او نهي کې)، بېشکه دغه (مذکوره نصائح) له مهمو مقصودي کارونو څخه دي.

تفسیر: یعنې په دنیا کې هر هغه سختي، کړاوونه، او تکلیفونه چې درپېښېږي، چې هغه اغلبًا د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په سلسله کې وي؛ نو هغه په تحمّل او اولوالعزمۍ سره په ځان وګاله، او له سختیو څخه له سره مه ویرېږه ! ځکه چې له دغو شیانو څخه د کلمة الله د اعلاء په مقابل کې ویرېدل د زړورو او د عزم د خاوندانو کار نه دی.

وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ

او مه ګرځوه مخ خپل خلقو ته (له ډېره کبره، بلکه ګوره دوی ته په تواضع سره).

تفسیر: یعنې په تکبر او غرور سره مه ګوره ! خلق خوار، سپک او حقیر مه ګڼه ! د متکبرانو په شان خبرې اترې مه کوه ! بلکه په رونړ تندي، او په خندا، خوښۍ او خوشالۍ له خلقو سره غږېږه !.

وَلَا تَمْشِ فِى الْاَرْضِ مَرَحًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ﴿۱۸﴾

او مه کوه تګ په ځمکه کې په ناز او نخرو ! بېشکه الله محبت نه کوي هر کبر کوونکي فخر کوونکي سره (په خلقو).

تفسیر: یعنې په غرور، تکبر، لویي او لاپو د سړي څه قدر او عزت نه زیاتیږي، بلکه د دې په عکس ذلیل، حقیر او سپک ښکاري، که څوک مخامخ ورته څه ونه وایي؛ پسې شا خو خلق ورپسې ډېر بد وایي، او سپک یې ګڼي.

وَاقْصِدْ فِىْ مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ ؕ اِنَّ اَنْكَرَ الْاَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيْرِ ﴿۱۹﴾

او میانه رو اوسه ! په تګ خپل کې (یعنې مه ډېر ګړندی اومه ډېر ورو ځه)، او ورو کړه غږ خپل، بېشکه چې ډېر بد د ټولو غږونو خامخا غږ د خرو دی.

تفسیر: یعنې تواضع، متانت، اعتدال او متوسط وضعیت ځان ته غوره او اختیار کړه، بې له ضرورت نه خبرې مه کوه ! د خبرو په وخت کې بې له ضرورت نه چغې مه وهه ! که په لوړ غږ سره غږېدل څه کمال وی؛ نو د خره غږ ته به خلقو ډېر اهمیت ورکاوه، حال دا چې څه وخت چې خر هنګیږي؛ هغه په غوږونو ډېر کریهه او بد لګیږي، ډېر ځله د انسان په زوره غږېدلو کې هم داسې بې نظمي او بې ترتیبي پېښېږي.

اَلَمْ تَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ وَاَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهٗ ظَاهِرَةً وَّبَاطِنَةً ؕ

آیا نه وینئ تاسې (ای انسانانو !) چې بښکه الله مسخر کړي په کار اچولي دي تاسې ته هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي، او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، او پوره کړي دي (الله) په تاسې نعمتونه خپل (هم) په ښکاره او (هم) په پټه.

تفسیر: یعنې د اسمان او ځمکې ګرد مخلوقات ستاسې په کارونو کې لګیا دي، نو بیا تاسې ولې د هغه په کار نه لګیا کېږئ؟ او پوره کړي دي الله په تاسې نعمتونه خپل هم ښکاره هم په پټه، ښکاره نعمتونه هغه دي چې په حواسو سره یې ادارک کیږي، یا بلا تکلفه په فهم او پوهه کې راتلای شي، پټ نعمتونه هغه دي چې په عقل، فکر، غور او دقّت سره موندل کیږي، یا به له ظاهري ځنې مادي او معاشي او له باطني ځنې روحاني او معادي نعمتونه مراد وي، ګواکې د رسول ارسال، د کتاب نازلول، د نېکۍ توفیق ورکول؛ ګرد په باطني نعمتونو کې شامل دي.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ۝۲۰

او (ځینې) له خلقو هغه څوک دي چې جګړه کوي په (حق د) الله کې بې له پوهې (د توحید څخه) او بې له (لارې د) هدایت، او بې له کتاب روښان څخه.

تفسیر: یعنې له داسې ظاهرو او باهرو نعمتونو او احسانونو سره سره ځینې خلق خپلې سترګې پټوي، د الله تعالی په وحدانیت کې یا د ده په شیونو او صفاتو کې یا په احکامو او شرائعو کې مباحثې او جګړې کوي، او تش په بې سندو جګړو کې سره ننبلي، نه کوم علمي او عقلي اصول له هغوی سره شته، او نه د کوم بر حق هادي څه هدایت، او نه د کوم مستند او روښان کتاب حواله له خپله ځانه سره لري، تش د خپلو پلرونو او نیکونو ږوند تقلید له هغوی سره شته، چې ذکر یې په راتلونکي آیت کې راځي.

وَإِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ۭ أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطٰنُ يَدْعُوْهُمْ إِلٰى عَذَابِ السَّعِيْرِ ۝۲۱

او کله چې وویل شي دوی ته چې متابعت وکړئ په صدق سره د هغه (قرآن) چې نازل کړی دی الله؛ نو وایي دوی: نه ! بلکه متابعت کوو د هغه شي چې موندلي وو مونږ په هغه شي پلرونه خپل، (نو وایي الله) آیا (متابعت کوي دوی د پلرونو) اګر که وي شیطان داسې چې بولي دوی (یا پلرونه د دوی) په طرف د عذاب د دوزخ (بلکه متابعت دې نه کوي !).

تفسیر: یعنې که شیطان ستاسې پلرونه او نیکونه د دوزخ په طرف بیولي وي، بیا هم تاسې په هم هغو پسې درومئ؟ او په کوم ځای کې چې هغوی لویدلي دي؛ تاسې هم خپل ځانونه هم هغلته غورځوئ؟.

وَمَنْ يُّسْلِمْ وَجْهَهٗٓ إِلَى اللّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ۭ

او هر څوک چې وسپاري (تابع کړي) مخ (ځان) خپل الله ته (او پرې تفویض او توکّل وکړي) حال دا چې دی نیکوکار وي؛ نو په تحقیق ده منګولې خښې کړي دي په کړۍ مضبوطې باندې.

تفسیر: یعنې هر هغه چا چې په اخلاص سره د نېکۍ لاره غوره او اختیار کړه، او خپل ځان یې الله تعالی ته وسپاره؛ نو وپوهېږه چې خپل لاس یې په ډېرې مضبوطې او کلکې کړۍ لګولی دی، او ځان یې پرې تینګ کړی دی، تر هغه وخته پورې چې ده دغه کړۍ تینګه نیولي وي؛ نو له سره نه ښایي چې د لوبدو کومه اندېښنه ورته پیدا شي.

وَإِلَى اللَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ ﴿۲۲﴾

او خاص الله ته دی عاقبت خاتمه د (ټولو) کارونو.

تفسیر: یعنې هر هغه چې دغه کړۍ مضبوطه ونیوله؛ بالآخره د همدغې کړۍ او سند په وسیله د الله تعالی دربار او دیدار ته رسیږي، او پاک الله د ده آخره خاتمه او انجام ښه کوي.

وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحْزُنكَ كُفْرُهُ ۚ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿۲۳﴾

او هر څوک چې کافر شو؛ پس نه دې خپه کوي تا (ای محمده !) کُفر د ده (ځکه چې) خاص مونږ ته دي بیا راتله د دوی په قیامت کې، پس خبر به کړو مونږ دوی په هغو اعمالو چې کړي یې دي، ببشکه چې الله ښه عالم دی په هغو خبرو چې په سینو (د دوی) کې دي.

تفسیر: یعنې تاسې خپله علاقه له پاک الله سره ټینګه او مضبوطه ولرئ ! د هیچا د تکذیب او انکار پروا له سره مه کوئ ! د منکرینو بېرته راتګ او رجوع خامخا ځمونږ په لوري ده، په دغه وخت کې به د دوی ټولو عملونه بې له کموالي او زیاتوالي د دوی په مخ کې ایښودل کیږي، او هیڅوک به خپل هیڅ یو جرم له پاک الله څخه نشي پټولی، ځکه چې الله تعالی د زړونو په پټو خبرو او مخفي اعمالو هم خبر دی، او هغه ګرد به دوی ته ور وړاندې کړي.

نُمَتِّعُهُمْ قَلِيلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿۲۴﴾

نفع به ورکړو مونږ دوی ته (په دنیا کې) لږ شاني، بیا راولو دوی په ډېره ناچاری عاجزی سره په طرف د عذاب سخت (د دوزخ).

تفسیر: یعنې د لږو ورځو عیش عشرت، بې فکري او بېغمي ده، کله چې د دوی دغه نېټه او مهلت ختم شي؛ نو خورا ډېرې سختې سزا ته به راښکودل شي، او هیڅ به د دوی له واکه نه وي پوره چې چېرې وتښتي، یا پټ شي.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ۚ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿۲۵﴾

او قسم دی که وپوښتې ته دغه (کُفّار) چې چا پیدا کړي دي دغه اسمانونه او ځمکه؛ نو خامخا وبه وایي دوی چې: الله، (کله چې مقر شول دوی؛ نو ای محمده !) ووایه: ټوله ثناء خاص الله لره ده، بلکه زیاتره د دوی نه پوهیږي.

تفسیر: یعنې الحمد لله دغومره خو په خپلو ژبو اعتراف کوي، چې د اسمانونو او د ځمکې پیدا کول بې له الله تعالی نه د بل هیچا کار نشي کېدی، نو بیا اوس کوم قسم خوبي پاتې شوه چې د ده په پاک ذات کې نه وي موجوده؟ آیا د دغو عظیم الشأنو شیانو پیدا کول او بیا یې په یو مضبوط او ټینګ نظام په کار اچول، بې له اعلی درجې علم او حکمت، زور او قوّت امکان لري؟ نو هرومرو د «خالق السماوات والأرض» په ذات کې د ټولو کمالاتو د موجودیت منل لازمیږي، او دغه هم د ده د قدرت یوه نمونه ده، چې تاسې غوندې مجرمینو او منکرینو باندې هم د خپل عظمت او قدرت اقرار او اعتراف کوي، چې له دغه اقرار څخه وروسته تاسې ملزم ګڼل کېږئ، یعنې کله چې ستاسې په نزد هم خالق یوائې هم هغه الله دی؛ نو بیا ولې نور شیان مو خپل معبودان ګرځوئ؟ خبره خو صافه او سمه ده، خو سره له هغه ډېر کسان پرې نه پوهیږي، او دلته چې رسیږي؛ بند پاتې کیږي.

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٢٦﴾

خاص الله لپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او په ځمکه کې دي (سره له اسمانونو او ځمکې ملکا خلقًا عبيدًا)، بېشکه چې الله همدی دی غني بې پروا، ډېره ثناء ورته ویلې شوې ده.

تفسير: يعنې هم هغسې چې د اسمانونو او د ځمکې پيدا کوونکی الله تعالی دی؛ همداسې ټول هغه شيان چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، ټول بلا استثناء بې د بل چا له اشتراکه د الله تعالی مخلوق او مملوک دي، او تمامًا د الله تعالی محتاج دي، او بالعکس پاک الله هيڅوا ته اړ او محتاج نه دی، ځکه چې د ده هيڅ يو کمال د بل چا ځخه مستفاد نه دی، دی بالذات د ټولو عزتونو او محاسنو او ښېګڼو مالک دی، نو بيا به دی بل چا ته ولې محتاج او اړ وي؟ او د چا به څه پروا لري؟.

وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِن بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمٰتُ اللّٰهِ ۗ إِنَّ اللّٰهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٧﴾

او که چېرې هغه څه چې په ځمکه کې دي له ونو څخه (هغه ټول) قلمونه شي، او (سياهي شي محيط) بحر، مرسته وکړي له ده سره پس له (تمامېدلو د اوبو) د ده اوه (نور) بحرونه؛ نو خلاص به نشي کلمات د الله، بېشکه چې الله دی ښه غالب (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: يعنې که د دنيا له ګردو (ټولو) ونو ځنې قلمونه جوړ کړی شي، او دغه اووه موجوده ترخه بحرونه (سمندرونه) سياهي تيار کړل شي، او بيا د همدغو سمندرونو په شان اوه نور سمندرونه هم د ده د کار د کومک او معاونت لپاره پيدا کړل شي، او فرض يې کړئ چې د ټول عالم انسانان له خپل قدرت او قوّت سره سم هم په ليکلو لاسونه پورې کړي؛ خو سره له دغه هم د الله تعالی د کلمو د ليکلو د عهدې څخه ټول نشي وتلی، او د الله تعالی د کمالاتو او جلال، عظمت، او قدرت له اظهار څخه به ګرد سره عاجز او ناتوان پاتې شي، د ليکونکو عمرونه به تمام شي، قلمونه به په ډېرو ليکلو وسولېږي او مات به شي، سياهي به له ډېرو ليکلو څخه خلاصه شي، خو سره له دې به هم د الله تعالی تعريف، توصيف، محامد، محاسن او ثناء به ختم نشي، رښتيا خبره همدا ده چې: محدود او متناهي قوّتونه به څرنګه د الله تعالی لا محدود او غير متناهي صفات قيد او ضبط کړی شي؟ اللهم لا أحصي ثناء عليك، أنت كما أثنيت على نفسك.

مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَاحِدَةٍ ۗ

نه دي پيدا کول ستاسې او نه بيا ژوندي راپاڅول ستاسې مګر داسې دي لکه پيدا کول او ژوندي کول د يوه نفس.

تفسير: يعنې د ټول جهان پيدا کول او د يوه انسان پيدا کول دواړه پاک الله ته يو شان سهل او آسان دي، نه په دغه کې څه اشکال او دقّت او نه په هغه کې څه سختي ورته پېښېږي، په يوه «کن» سره هر شي ته چې اراده وکړي؛ هم هغه کېږي.

إِنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ﴿٢٨﴾

بېشکه چې الله دی ښه اورېدونکی (د ټولو اقوالو) ښه ليدونکی (د ټولو احوالو).

تفسیر: یعنې څرنګه چې د یوه غږ اورېدل، یا د یو شي لیدل یا په یو وخت کې د ټول جهان د شیونو لیدل الله تعالی ته یو شان او برابر دي؛ همداسې د یوه سړي وژل او ژوندي کول، او د ګرد جهان د ټولو موجوداتو وژل او ژوندي کول الله تعالی ته برابر او مساوي دي، او د الله جل جلاله د قدرت په مقابل کې یو شان دي.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یُوْلِجُ الَّیْلَ فِی النَّهَارِ وَیُوْلِجُ النَّهَارَ فِی الَّیْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ یَّجْرِیْۤ اِلٰۤی اَجَلٍ مُّسَمًّی

آیا نه وینې (ته ای مخاطبه؟ بلکه وینې یې) چې بېشکه الله ننباسي شپه (په کامل قدرت خپل سره) په ورځ کې، او ننباسي (الله) ورځ په شپه کې، او مسخر کړي په کار اچولي یې دي تاسې ته لمر او سپوږمی، هر یو (له دغو دواړو نه لکه نور سیّارات) روان دي تر ټاکلې (مقرر کړې) مودې پورې.

تفسیر: د «مقرر وخت» څخه مراد قیامت دی، یا له لمر او سپوږمی څخه د هر یوه دوره ده، ځکه چې د یوې دورې د پوره کېدلو څخه وروسته ګواکې دوی بیا له سره خپله دوره او تګ شروع کوي.

وَّاَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِیْرٌ ﴿۲۹﴾

او بېشکه الله په هر هغه څه چې تاسې یې کوئ ښه خبر دی.

تفسیر: یعنې د الله تعالی هغه قوّت او قدرت ته چې له شپې څخه ورځ او له ورځې څخه شپه جوړوي، او د لمر او سپوږمی په شان له خورا ډېرو لویو لویو کراتو څخه د ادنا مزدورانو په شان کار اخلي، له مړګ نه وروسته ستاسې بیا ژوندي راپاڅول څه اشکال لري؟ او کله چې دی له هر لوی او وړوکي عمل څخه پوره واقف او عالم دی؛ نو بیا په حساب او کتاب کې به الله تعالی ته څه اشکال او سختي ورپېښه شي.

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّ مَا یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الْبَاطِلُ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِیُّ الْكَبِیْرُ ﴿۳۰﴾

دغه (شامل معرفت، کامل قدرت) له دې سببه دی، چې بېشکه الله همدی حق دی، او بېشکه هغه (معبودان) چې بولي (عبادت یې کوي) دوی بې له دغه (الله) نه؛ حق نه دي، او بېشکه الله هم دی ښه پورته ډېر لوی دی.

تفسیر: یعنې د الله تعالی دغه عظیمه شئون او قاهره صفات ځکه ذکر شول؛ څو اورېدونکي وپوهېږي چې د یوه الله تعالی منل او د هم هغه واحد لا شریک عبادت کول؛ هم هغه سمه لاره ده، له دې نه خلاف هر څه چې وویل شي یا وکړل شي؛ باطل او دروغ دي.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِیْ فِی الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللّٰهِ لِیُرِیَكُمْ مِّنْ اٰیٰتِهٖ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿۳۱﴾

آیا نه وینې ته چې بېشکه (دا) بېړۍ تګ کوي په بحر کې په فضل د الله، لپاره د دې چې وښیي تاسې ته له دلائلو د ده، بېشکه په دغې (بېړۍ او بحر) کې خامخا ډېر دلائل دي لپاره د هر ډېر صابر ډېر شاکر (په آفتونو او نعمتونو).

تفسير: يعني جهازونه او بېړۍ ډېر ثقيل او درانه بارونه وړي، او د الله تعالى په قدرت، فضل او مرحمت څرنګه د سمندر څپې سره څيروي او په کې ځي؟ يعني د دغه بحري سفر په احوالو او حوادثو کې له غور کولو څخه انسان ته د صبر او شکر ډېر مواقع په لاس ورځي.

کله چې طوفان پورته شي، او جهاز د طوفان په څپو کې ګېر شي، او له هرې خوا له لويو پېښو او حوادثو سره مخامخ شي؛ نو دغه وخت د لوی صبر او تحمّل وخت دی، او کله چې الله تعالى دوی د مرګ او ژوند له دغه کشمکش څخه صحيح او سالم وباسي؛ نو حتمي او ضروري ده چې د الله تعالى د دغه احسان او مرحمت شکر اداء کړي. !.

وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوْجٌ كَالظُّلَلِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ۚ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ ۚ

او کله چې لاندې کړي دغه (کفار) يو موج لکه وربځې؛ نو بولي دوی الله په داسې حال کې چې خالص کوونکي وي دوی خاص الله ته (د) دين خپل، پس کله چې نجات ورکړي دوی ته الله طرف د وچې ته؛ نو ځينې د دوی ولاړ وي په (هم هغې) لارې سمې.

تفسير: يعني د طوفاني موجونو او څپو (چپو) له وېرې ډېر سخت اوغليظ مشرک هم په ډېر اخلاص او عقيدې سره د الله تعالى په دربار کې دعا او استغفار کوي، او ترې خپل نجات او حيات غواړي؛ نو معلوم شو چې د انسان ضمير او د فطرت اصلي غږ همدغه دی، او باقي ټول جعلي، ساختګي، موهوم او چتې (بېکاره) شيان دي.

پس هر کله چې پاک الله دوی له طوفان نه روغ رمټ وچې ته راوباسي؛ نوډېر لږ کسان داسې دي چې د اعتدال او توسط په لاره قايم پاتې کيږي، که نه زياتره څنګه چې له بحر څخه د باندې پل کيږدي؛ بېرته په خپلو هم هغو شرارتونو لاس پورې کوي.

وَمَا يَجْحَدُ بِآيَاتِنَا إِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُورٍ ﴿٣٢﴾

او انکار نه کوي له دلائلو ځمونږ مګر هر هغه چې ډېر عهد ماتوونکی غدار زيات ناشکره وي.

تفسير: يعني اوس لږه شېبه پخوا يې د طوفان له وېرې څخه کوم قول چې له الله تعالى سره ترلی وو؛ هغه بيخي غلط او دروغ ثابت شو، څو ورځې يې هم د ده د هغه انعام او احسان حق ونه مانه.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا يَوْمًا لَّا يَجْزِي وَالِدٌ عَن وَلَدِهِ وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِ شَيْئًا ۚ

ای خلقو ! ووېرېږئ تاسې (ټول له عذابه) د رب خپل، او ووېرېږئ تاسې له هغې ورځې چې نه به شي دفع کولی عذاب هيڅ پلار له ځوی خپل، او نه به هيڅ ځوی (داسې وي) چې هغه دفع کوونکی شي له پلار خپل څخه کوم شی (څه عذاب).

تفسير: د طوفان په وخت کې د جهاز مسافران سخت پرېشان، وارخطا وي، او له هر انسان سره يواځې د خپل ځان د خلاصون فکر او اندېښنه وي، خو سره له هغه هم مور او پلار له خپلو اولادو، او اولاد له خپل مور او پلار څخه بيخي غافل او بې پروا نه وي، او هر يو د بل د نجات او خلاصي او مرستې په فکر کې وي، بلکه ډېر کله د والدينو شفقت غواړي چې هر راز زحمت او مصيبت په خپل ځان واخلي، چې خپل اولاد له هغه مصيبت څخه وژغوري، ليکن د

دې په عکس یوه داسې ویروونکې او هولناکه ورځ راتلونکې ده، چې په هغې کې به له هر طرفه هم دغه د «نفسي ! نفسي !» غږ راپورته کیږي، نه اولاد او نه والدین بلکه هیڅوک به داسې یو ایثار او شفقت ونشي کړی، چې د بل لږ څه مصیبت په ځان واخلي.

نو په هر انسان لازم دي چې لا له اوسه د هغې ورځې په فکر او اندېښنه کې واوسي ! او د هغې لپاره توښه برابره کړي ! او زیار وکړي، څو د الله تعالی له قهر او غضب څخه مأمون او مصون پاتې شي، که نن دوی د سمندر له طوفانه روغ رمټ ووتل، نو سبا خو دوی د حشر له ډګر ځنې په هیڅ صورت نشي وتلی.

إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللَّهِ الْغَرُورُ ﴿٣٣﴾

بېشکه وعده د الله رښتیا ده (د بعث، د حساب، د جزا وعده) پس نه دې غره کوي تاسې خامخا دغه ژوندون لږ خسیس ! او نه دې غره کوي خامخا تاسې په (عفو او کرم د) الله هیڅ غره کوونکی.

تفسیر: یعنې هغه ورځ یقیناً او قطعًا راتلونکې ده، او داسې یې مه ګڼئ چې هر څوک چې دلته په آرام وي؛ نو بې له ایمان او صالح عمل څخه هلته به هم په آرامۍ او هوسایۍ کې وي، د ټګ شیطان له مکر او فریب او اغواء څخه تل هوښیار او ویښ اوسئ ! چې شیطان مو د الله تعالی په نامه هم غولوي، او داسې درته وایي: ځه خانه ! بېغمه خپلې چرچې او مزې کوه ! پاک الله غفور رحیم دی، که ستا په تقدیر کې جنّت لیکلی وي؛ نو هر څومره ګناهونه چې وهم کړې؛ بالآخر به جنّت ته ځې، که په تقدیر کې دې دوزخ لیکلی شوی وي؛ نو په هیڅ ډول ته خپل ځان له دوزخه نشې خلاصولی؛ نو بیا د څه لپاره په دنیا کې مزې نه کوې؟.

إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴿٣٤﴾

بېشکه الله خاص همده څخه دی علم (د قیام) د قیامت، او نازلوي الله باران (او د نزول په وخت یې هم علم لري)، او معلوم دی الله ته هغه شی چې په ارحامو (د میندو په نسونو) کې وي (لکه نرتوب او ښځه توب یې او داسی نور)، او نه پوهیږي هیڅ نفس چې څه کار به کوي سبا، او نه پوهیږي هیڅ نفس چې په کومه ځمکه کې به مري، بېشکه الله دی ښه عالم (په دغو شیانو او نورو ټولو اقوالو) ښه خبردار (په ټولو احوالو) دی.

تفسیر: یعنې قیامت خامخا راتلونکی دی، د دې علم یوائې له الله تعالی سره دی، دغه نه ده معلومه چې دغه دنیوي لویه کارخانه به کله ویجاړه او دړې وړې کیږي؟، په دغه آیت کې چې دا پنځه شیان مذکور دي؛ په احادیثو کې یې دغو ته «مفاتیح الغیب» ویل شوي دي، چې د هغه کلي علم پرته (علاوه) له الله څخه بل هیچا ته نشته.

«تمت سورة لقمان بمنّه وکرمه»

سُورَةُ السَّجْدَةِ

«د السجدة سورت مکي دی، پرته له (۱۶) آیت څخه تر آخر د (۲۰) آیت چې مدني دي، (۳۰) آیتونه او (۳) رکوع لري، په تلاوت کې (۳۲) او په نزول کې (۷۵) سورت دی، وروسته د (المؤمنون) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

الٓمٓ ۝١ تَنزِيلُ الْكِتَٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ الْعَٰلَمِينَ ۝٢

نازلېدل د (دغه) کتاب (قرآن) چې نشته هیڅ شک په دغه کې له (جانبه) د رب د عالمیانو دی.

تفسیر: بې شکه دغه مقدّس کتاب رب العالمین نازل کړی، په دغه کې نه څه شک شته او نه شبهه، او نه د فریب او تېرویستلو ځای دی، لیکن کفّار دا خبره نه مني چې راغلی دی دا قرآن له طرفه د الله تعالی.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَىٰهُ ۚ بَلْ هُوَ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ۝٣

آیا وایي (دغه کفّار) له خپله ځانه یې جوړ کړی دی دا (قرآن محمد، داسې نه دی) بلکه همدغه (قرآن) حق دی (نازل شوی دی) له جانبه د رب ستا، چې وویروې ته (په قرآن سره) هغه قوم چې نه دی راغلی دوی ته هیڅ ویروونکی پخوا له تانه (تر اسماعیل علیه السلام پورې)، لپاره د دې چې سمه لاره وموميي دوی (په سبب د وېرولو ستا).

تفسیر: یعنې د هغه کتاب په باب کې چې اعجاز او حقانیت یې دومره ښکاره او واضح دی، چې د هیڅ شک او شبهې ځای په کې نشته؛ آیا د هغه په نسبت کفار داسې اظهار کوي چې رسول الله دغه قرآن له خپله ځانه جوړ کړی دی، او (معاذ الله) د لویو دروغو نسبت پاک الله ته کوي؟ نو دغه د دوی انتهایي لجاجت، ګستاخي او سپین سترګي ده، چې په داسې واضح او روښانه بیان کې هم له خپله ځان شبهې پیدا کوي، که دوی لږ څه غور او انصاف کولی؛ نو دوی ته به معلومه شوي وی چې په رښتیا سره دغه کتاب د پاک الله له طرفه راغلی دی، او ته کوښښ کوې چې د هغه په وسیله یو داسې قوم ویښ او هوښیار او په سمه لار یې راولې؛ چې له څو پېړیو راپه دېخوا په دوی کې ویښوونکی نبي نه دی مبعوث شوی.

اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ ۖ

الله هغه ذات دی چې پیدا کړي یې دي اسمانونه او ځمکه او هر هغه چې په منځ د دغو دواړو کې دي په شپږو ورځو کې، بیا اوچت شو په عرش باندې (هم هغسې چې لایقه وه له شانه د الله سره، نو ایمان راوړئ پرې !).

تفسیر: د «استواء» بیان د «الأعراف» په (۷) رکوع کې تېر شوی دی، هلته دې بیا ولوستل شي !.

مَا لَكُمْ مِّنْ دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا شَفِيعٍ ۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٤﴾

نشته تاسې لره (ای کفارو) غیر له الله هیڅ دوست او نه شفاعت کوونکی (چې عذاب در څخه دفع کړي)، آیا پس نه اخلئ پند (په دغه وعظ).

تفسیر: یعنې غور او فکر نه کوئ؟ د الله تعالی د پیغام او د ده د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دروغجن ګڼلو څخه وروسته به تاسې چېرې ځئ؟ په ګردو اسمانونو او ځمکه کې له فرشه تر عرشه پورې د الله تعالی حکومت دی، که ونیولی شوئ؛ نو بې د هغه د اجازې او رضا به مو هیڅوک څه حمایت او سپارښت ونشي کړی، او نه به داسې کوم حامي او سپارښت کوونکی وموميئ !.

او الله تعالی داسې مطلق قادر دی چې:

يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ أَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٥﴾

تدبیر کوي (او نازلوي) امر کار له اسمانه ځمکې ته (تر ورځې د قیامت پورې) بیا بېرته خیژي هغه کار ده ته په هغې ورځې کې چې ده اندازه د هغې (ورځې) زر کاله له هغو «دنیوي وختونو» چې یې شمېرئ تاسې.

تفسیر: مفسّرین د دغه آیت مطلب داسې بیانوي چې: «د الله تعالی حکم د اسمانونو له پاسه تر ځمکې پورې رسیږي، بیا هر هغه کارواییې چې د هغه په متعلق دلته کیږي؛ هغه د اعمالو په دفتر کې د درج کېدلو لپاره پاس خیژي، او له ځمکې څخه د هغه ځای فاصله د انسان په متوسط ټک سره د یو زر کاله لاره ده، چې د الله تعالی په نزد هغه د یوې ورځې لاره ټاکلې شوې ده، مسافه خو هم دغومره ده، دغه خو بېله خبره ده چې پرښته هغه په یوه ګړۍ کې وهي، یا له دې نه هم په لږه موده کې وررسیږي».

ذَٰلِكَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿٦﴾

هم دی (خالق او د امورو مدبر) عالم دی په هر پټ او ښکاره، ښه غالب قوي دی، ښه مهربان دی.

تفسیر: یعنې د داسې اعلی او عظیم الشأن انتظام او تدبیر قایمول د هغه پاک ذات کار دی، چې په هر یو پټ او ښکاره شي علیم او خبیر دی، او ډېر زبردست او نهایت مهربان دی.

الَّذِي أَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهُ وَبَدَأَ خَلْقَ الْإِنسَانِ مِن طِينٍ ﴿٧﴾ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهُ مِن سُلَالَةٍ مِّن مَّاءٍ مَّهِينٍ ﴿٨﴾ ثُمَّ سَوَّاهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِ

هغه الله چې ښایسته کړی یې دی هر شی چې پیدا کړی یې دی هغه (هر موجود بالخاصه انسان)، او شروع کړی یې پیدایښت د انسان (یعنې آدم) له خټې څخه. بیا یې پیدا کړ نسل اولاد د ده له خلاصې له اوبو ضعیفو حقیرو څخه. بیا یې برابر کړ (قالب د) هغه او پو (داخل) یې کړ په دغه (قالب) کې له روح خپل څخه (چې مخلوق د ده دی).

تفسیر: یعنې الله تعالی د انسان نسل او اولاد له خلاصې له اوبو ضعیفو حقیرو څخه چې د خورا ډېرو غذاګانو عُصاره او خلاصه ده، بیا یې برابر کړ قالب د هغه یعنې شکل، صورت او اعضاء یې موزون او متناسب خلق او موجود کړي دي،

او پو، داخل يې کړ په دغه قالب کې روح خپل، شاه صاحب ليکي چې: «کرد مخلوقات د ده مال دی، مګر هر چا ته يې چې ډېر پت او عزت ورکړی دی؛ هغه يې خپل بللی دی، لکه چې وايي: ﴿إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ﴾ حال دا چې ټول د الله تعالی بندګان دي، لکه چې الله تعالی ويلي دي: ﴿إِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ إِلَّا آتِي الرَّحْمَٰنِ عَبْدًا﴾.

وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ ۖ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٩﴾

او ويې ګرځول (در يې کړل) تاسې ته (ای د آدم اولاده) غوږونه او سترګې (چې پرې اورئ او وينئ) او زړونه (چې عقل او فکر پرې کوئ)، خو سره د دغو نعمتونو بيخي لږ شکر کوئ تاسې !.

تفسير: د دغو نعمتونو شکر دا وو چې پخپلو سترګو مو د ده تکويني آيتونه په غور سره کتلي وی، او پخپلو غوږونو مو د ده تنزيلي آيتونه په پوره توجه او شوق سره اورېدلي وی، او په خپلو زړونو سره مو د دغو دواړو په پوهېدلو او غور او فکر کولو کې پوره کوښښ او زيار ايستلی وی، او وروسته له پوهېدلو مو پرې عمل کړی وی، مګر تاسې خلق ډېر لږ شکر اداء کوئ.

وَقَالُوا أَإِذَا ضَلَلْنَا فِي الْأَرْضِ أَإِنَّا لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ۚ بَلْ هُم بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ كَافِرُونَ ﴿١٠﴾

او وايي (منکران د بعث) آيا کله چې ورک شو مونږ په ځمکه کې (چې خاورې شو)؛ آيا مونږ خامخا په نوي پيدايښت کې يو؟ (بلکه نه يو، نو الله وايي: نه ده داسې چې دوی وايي) بلکه دوی له ملاقات د رب خپل څخه منکران دي (چې په قيامت باندې ايمان نه راوړي).

تفسير: يعنې په دغه خبره يې غور او فکر ونه کړ؛ چې پاک الله دوی اول له خاورو څخه پيدا کړي دي، او په خلاف د هغه يې د شبهو په پيدا کولو شروع وکړه، چې آيا له دې نه وروسته چې ځمونږ جسم له خاورو سره ګډوډ شي، بيا به څرنګه مونږ ژوندي راپاڅول کيږو؟ دغه خو تشه يوه شبهه او استبعاد نه دی، بلکه په صاف ډول سره دغه خلق له بعث بعد الموت څخه منکر شوي دي.

قُلْ يَتَوَفَّاكُم مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِي وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴿١١﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) قبض کوي ارواح ستاسې پرښته د مرګ هغه چې مقرره شوې ده په تاسې (لپاره د قبض د ارواحو) بيا به رب خپل ته ببرته بوتلل شئ (پس له مرګ نه د حساب لپاره).

وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُوا رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ رَبَّنَا أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ﴿١٢﴾

او که ووينې ته (ای محمده !) کله چې دغه کافران ښکته اچوونکي به وي د سرونو خپلو په نزد د رب خپل (په ورځ د قيامت کې له ذلت ندامت او خجالت نه، او وايي به) ای ربه ځمونږ ! ولیده مونږ او واورېده مونږ (وعده ستا او تصديق د رسولانو)؛ پس ببرته بوځه مونږ (دنيا ته لپاره د دې) چې وکړو نېه عمل، بېشکه چې مونږ يقين کوونکي يو (نو وبه ګورې ته يو سخت بد کار، او دغه وينا به دوی ته له سره څه ګټه نه رسوي).

تفسیر: یعنې ځمونږ غوږونه او سترګې خلاصې شوي دي، د رسول الله په هغو خبرو چې ویلې یې دي؛ ځمونږ یقین راغی، او دغه ګرد شیان مو په خپلو سترګو سره ولیدل، او ښه وپوهېدو چې یواځې ایمان او صالح عمل د الله جل جلاله په نزد منظور او مقبول دی، او په کار راځي، اوس مو یو ځلې بیا دنیا ته ولږه، او مو ګوره چې مونږ څرنګه ښه عملونه کوو.

وَلَوْ شِئْنَا لَاٰتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدٰىهَا وَلٰكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّيْ لَاَمْلَـَٔنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۳﴾

او که اراده کړي وی مونږ؛ نو خامخا ورکړی به وو مونږ هر نفس ته (په دنیا کې) هدایت د هغه، ولیکن مقرّره شوې ده دغه وینا (حکم) له ما چې خامخا ډک به کړم خامخا دوزخ (له کفارو نه) له پیریانو او انسانانو ټولو څخه.

تفسیر: مونږ په دغه خبره قادر یو چې د دنیا ګرد انسانان په جبر او زور سره د هدایت په لاره راولو، او پرې قائم یې کړو، چې د هغه په لوري د انسانانو زړونه فطرتاً مایل دي، لیکن په دغه تقدیر سره چې ګرد انسانان په همدغه یوه طریقه اختیارولو مجبور کول؛ دغه ځمونږ د حکمت څخه مخالف وو، چې د هغه بیان په څو نورو ځایونو کې پخوا له دې نه تېر شوی دی، نو هم هغه خبره پوره کېدونکې وه چې د ابلیس د دغې دعوی: ﴿لَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ * اِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ﴾ (د ص سورت) (۸۲ - ۸۳ آیت) په ځواب کې ویلې وه: ﴿قَالَ فَالْحَقُّ وَالْحَقَّ اَقُوْلُ * لَاَمْلَـَٔنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ اَجْمَعِيْنَ﴾ (د ص (۵) رکوع، (۸۴ - ۸۵) آیت (۲۳) جزء)، معلومه شوه چې دلته له جن او انس څخه مراد هم هغه شیاطین او د هغو پیروان دي.

فَذُوْقُوْا بِمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ۚ اِنَّا نَسِيْنٰكُمْ وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْخُلْدِ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴﴾

پس وځکئ تاسې (دا عذاب) په سبب د دې چې هېر کړی وو تاسې ملاقات د ورځې ستاسې چې دا دی، بېشکه چې مونږ به هم هېر کړو تاسې، او وځکئ تاسې عذاب دائمي په سبب د هغه (کفر او تکذیب) چې وئ تاسې چې کاوه به مو (په دنیا کې).

تفسیر: یعنې مونږ هم تاسې هېر کړي یئ، یعنې هیڅکله به په رحمت سره نه یادول کېږئ، وروسته له دې نه د مجرمینو په مقابل کې د مؤمنانو حال او مآل بیانوي.

اِنَّمَا يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا سُجَّدًا وَّسَبَّحُوْا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۱۵﴾ تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّطَمَعًا ۖ وَّمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۱۶﴾

بېشکه همدا خبره ده چې ایمان راوړي په آیتونو ځمونږ هغه کسان کله چې پند ورکړی شي دوی ته په دغو (آیتونو)؛ نو پرېوځي په داسې حال کې چې سجده (عبادت) کوونکي وي الله ته او تسبیح وایي سره له ثناء د رب خپل، او دوی تکبّر لویي نه کوي (له عبادت نه). لرې کېږي ډډې د دوی له ځایونو د خوب (لپاره د تهجّد)، بولي دوی رب خپل (پټ له خلقو نه) له وېرې (د قهره د الله نه) او له طمعې (د رحمت د ده نه)، او ځینې له هغو مالونو چې ورکړي دي مونږ دوی ته لګوي (یې په لاره د الله کې).

تفسیر: یعنې په خوف او خشیت او خشوع او خضوع په سجده لوېږي، په ژبه سره د الله تعالی تسبیح او تحمید اداء کوي، او په زړه کې د کبر، غرور، داسې خبرې نه ګرځوي چې د الله د آیتونو په مقابل کې د تېښتېدلو څخه مانع وي،

له خوږو خوبونو او پستو بسترو څخه پورته کيږي، او د پاک الله په حضور کې دريږي، له دې نه مراد د تهجّد لمونځ دی، لکه چې په صحيح حديث کې راغلي دي.

او ځينو ترې د سبا او د عشا د لمانځه يا د مغرب او د عشا د لمانځه په منځ کې کوم نفلونه چې کيږي؛ هغه مراد کړي دي، ځکه چې په الفاظو کې د دې خبرې د ځاييدلو ځای هم شته، ليکن قوي هم هغه لومړنی تفسير دی، والله أعلم.

فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٧﴾

پس نه دي معلوم هيڅ نفس ته (نه پرښتې او نه نبي ته) هغه شی چې پټ کړی شوی دی دوی ته له يخوالي د سترګو نه، لپاره د جزاء د هغه عمل چې وو دوی چې کاوه به يې (پټ).

تفسير: يعنې څرنګه چې د شپو په تيارو کې له خلقو څخه په پټه دوی بې رياء عبادت کړی دی؛ د هغه په بدل کې الله تعالى هغه نعمتونه پټ ساتلي دي، او د هغو پوره کيفيت هيڅا ته نه دی معلوم؛ دوی ته ورکوي چې د هغو د ليدلو څخه د دوی سترګې روښانه کيږي، په حديث کې راغلي دي چې: ما خپلو نېکو بندګانو له په جنت کې داسې شيان پټ ساتلي دي، چې د هغو مثال نه سترګو ليدلی دی، او نه د هغه تعريف غوږونو اورېدلی دی، او نه د کوم انسان په زړه کې ګرځېدلی دی.

أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًا ۚ لَّا يَسْتَوُۥنَ ﴿١٨﴾

آيا پس هغه څوک چې وي مؤمن لکه هغه څوک دی چې وي هغه فاسق، نه دي برابر (دا دواړه ډلې).

أَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمْ جَنَّٰتُ ٱلْمَأْوَىٰ نُزُلًۢا بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾

هر چې هغه کسان دی چې ايمان يې راوړی دی، او کړي يې دي ښه (عملونه)؛ پس شته دوی لره جنتونه د هستوګنې په طريقه د ډلمستيا په سبب د هغو عملونو چې وو دوی چې کول به يې (په دنيا کې).

تفسير: يعنې د الله تعالى په فضل به د دوی صالح عمل د جنت د ډلمستيا سبب ګرځي.

وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فَسَقُوا۟ فَمَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ ۖ كُلَّمَآ أَرَادُوٓا۟ أَن يَخْرُجُوا۟ مِنْهَآ أُعِيدُوا۟ فِيهَا وَقِيلَ لَهُمْ ذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٠﴾

او هر چې هغه کسان چې فاسقان شوي دي؛ پس ځای د هستوګنې د دوی اور (د دوزخ) دی، هر کله چې اراده وکړي دوی د دې چې راووځي له دغه اوره؛ نو بېرته به غورځول کيږي دوی په دغه اور کې، او ويل کيږي به دوی ته: (د اهانت په ډول) وڅکئ تاسې عذاب د اور هغه عذاب چې وئ تاسې چې د هغه به مو تکذيب کاوه (په دنيا کې او باور مو پرې نه کاوه).

تفسير: يعنې کله کله چې د اور شُغلې دوزخيان د دروازې په لوري وغورځوي؛ په دغه وخت کې ښايي دوی د تښتېدلو په فکر کې ولويږي؛ نو پرښتې به له هغه ځای څخه دوی په ټهل وهلو سره بېرته بيايي، او دوی ته به وايي: چېرې ځئ؟ هغه شی مو چې دروغ باله، او باور مو پرې نه کاوه؛ اوس د هغه خوند او مزه وڅکئ ! (اللهم أعذني من النار، و أجرني من غضبك).

وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢١﴾

او خامخا وبه څكوو مونږ خامخا په دوى باندې له هغه عذاب نژدې (په دنيا كې) لږ له عذاب لوى نه (چې د آخرت دى) لپاره د دې چې دوى وګرځي (له كفر نه اسلام ته).

تفسير: يعنې د آخرت د لوى عذاب څخه پخوا په دنيا كې لږ څه كمه درجه عذاب پرې نازلوو، څو هغه كسان چې د رجوع توفيق ور په برخه وي؛ له الله تعالى څخه وويږي او الله تعالى ته رجوع وكړي، كمه درجه عذاب همدغه دنيوي مصائب دي، لكه ناروغي، قحط، قتل، قيد، د مال او د اولاد او د نورو تباهي او نور.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ ﴿٢٢﴾

او څوك دى ډېر ظالم له هغه چا چې پند وركړ شي په آيتونو د رب خپل (قرآن) بيا مخ وګرځوي ترې (فكر او غور ونه كړي په كې، او وروسته له پوهېدلو ترې ببرته وګرځي، بلكه له دې نه ډېر ظالم نشته)، بېشكه چې مونږ له دغو مجرمانو څخه انتقام اخيستونكي يو (په عذاب سره).

تفسير: كله چې مونږ له ټولو ګناهګارانو او ظالمانو او مجرمانو څخه انتقام او بدل اخيستونكي يو؛ نو دغه ډېر ظالم به څرنګه نجات وموندلى شي؟ له دې نه وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم ته تسلي وركوي چې ته د دوى له ظلم او اعراض څخه مه خپه كېږه ! پخوا مو موسى عليه السلام ته هم كتاب وركړى وو، چې په هغه سره بني اسرائيلو هدايت وموند، او د ده په تابعانو كې لوى لوى ديني پېشوايان او امامان تېر شول، تاته هم بېشكه د الله تعالى له طرفه دغه عظيم الشأن كتاب دركړى شوى دى، چې ډېر خلق به پرې لار وموميِ، او له بني اسرائيلو څخه به زيات ستا په امّت كې لوى لوى امامان او پېشوايان پيدا شي، پاتې شوه د منكرانو فيصله؛ هغه به پخپله الله پاك كوي.

وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ فَلَا تَكُن فِي مِرْيَةٍ مِّن لِّقَائِهِ وَجَعَلْنَاهُ هُدًى لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿٢٣﴾

او خامخا په تحقيق وركړى وو مونږ موسى ته كتاب (د تورات لكه چې تاته مو اى محمده قرآن دركړى دى)، پس مه كېږه ته ! په شك كې له ملاقاته د دغه (موسى)، او ګرځولى وو مونږ تورات يا موسى هدايت لپاره د بني اسرائيلو (اولاده د يعقوب).

تفسير: ﴿فَلَا تَكُن فِي مِرْيَةٍ مِّن لِّقَائِهِ﴾ په منځ كې معترضه جمله ده، يعنې بېشكه او بې شبهې موسى عليه السلام ته كتاب وركړى شوى وو، او تاته هم داسې كتاب دركړى شوى دى، چې په دغه كې هيڅ قسم چل او فرېب نشته، يا يې د موسى عليه السلام د ذكر په نسبت وويل چې: تاسې له موسى عليه السلام سره د معراج په شپه كې وليدل، هغه واقعي او حقيقي ملاقات وو، او په هغه كې هيڅ قسم چل، تېرايستل، سترګې پټول او نور شك او شبهه نه وه.

وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا ۖ

او ګرځولي وو مونږ ځينې له دوى نه امامان چې لاره به يې ښوولە (خلقو ته) په حكم ځمونږ كله چې صبر وكړ دوى (په دين خپل).

تفسير: يعنې د دنيا په سختيو او د منكرانو په ظلم او تېريو يې صبر وكړ، او خپل دين يې ټينګ وساته.

وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾

او وو دوی چې په آيتونو ځمونږ (چې له انبياء الله سره وو؛) يقين به يې کاوه.

تفسير: يعنې مسلمانان دې د الله تعالى په وعدو يقين او باور ولري، او په سختيو دې صبر وکړي، او پخپلو کارونو کې دی ثابت او قائم اوسي، نو له دوی سره به پاک الله هم داسې معامله وکړي لکه چې وشوه او ښه وشوه.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٢٥﴾

او بېشکه رب ستا هم دی به فيصله کوي په منځ د دوی کې په ورځ د قيامت کې په هغه شي کې چې وو دوی په دغه شي کې (په دغه دنيا کې چې سره) اختلاف به يې کاوه.

تفسير: يعنې د اهل الحق او منکرانو په منځ کې قاطعه او عملي پرېکړه به د قيامت په ورځ وشي، هو ! په دنيا کې هم ډېر مثالونه داسې ښوول شوي دي چې انسان د هغو له ليدلو څخه پوهه او عبرت حاصلولی شي.

أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّنَ الْقُرُونِ يَمْشُونَ فِي مَسَاكِنِهِمْ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ ۖ أَفَلَا يَسْمَعُونَ ﴿٢٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَسُوقُ الْمَاءَ إِلَى الْأَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا

آيا (لاره د عبرت) نه ده ښوولې دغو (مکيانو) ته (دې خبرې) چې څومره هلاک کړي دي مونږ پخوا له دوی نه له اهل د زمانو چې تل تيريږي (دغه کفّار) په (ورانو) کورونو د دوی، بېشکه په دغه (هلاکولو د پخوانيو) کې خامخا لوی دلائل د قدرت دي، آيا پس نه اوري دوی (د عبرت په غوږونو). آيا نه وينې دوی چې بېشکه مونږ بهوو (ويالې د) اوبو طرف د ځمکې وچې ته (چې ګياه په کې نه وي) پس راوباسو مونږ په هغو سره کښت.

تفسير: يعنې بهوو مونږ د نهرونو، ويالو او د سيندونو اوبه يا د باران اوبه، نو آيا نه وينې دوی دا چې بېشکه مونږ راوکاږو اوبه ځمکې وچې ته چې ګيا په کې نه وي، له ﴿الْأَرْضِ الْجُرُزِ﴾ څخه هغه وچه توره ځمکه مراد ده، چې له نباتاتو څخه تشه او خالي وي، ځينې ترې خاص د مصر ځمکې مصداق او مراد ګرځوي، او له ﴿نَسُوقُ الْمَاءَ﴾ څخه د نيل د سيند اوبه مرادوي، ولې دې تخصيص ته هيڅ ضرورت نشته، كما نبّه عليه ابن كثير رحمه الله.

تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَامُهُمْ وَأَنْفُسُهُمْ ۖ أَفَلَا يُبْصِرُونَ ﴿٢٧﴾

چې خوري له دغه کښته چارپايان د دوی (واښه، پانې) او نفسونه د دوی (دانه او مېوه)، آيا پس نه وينې (ننبې د قُدرت د ده).

تفسير: يعنې ښايي چې دغه ننبې يې کتلې او د الله تعالى په کامل قدرت، حکمت او رحمت قايل شوي وي، او ښه پوه شوي وي چې دی همداسې د مړي په لاش کې هم بيا روح ننباسي، او دغه «بعث بعد الموت» ده ته څه اشکال او سختي نه لري، او هم ښايي چې د الله تعالى په نعمتونو يې د زړه له کومې شُکر ويستلی وي.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْفَتْحُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٨﴾

او وايي (کفّار): کله به وي دغه فتح (فيصله) که چېرې يئ تاسې رښتينې (په دغه فتحه کې).

تفسير: پخوا يې ويلي وو چې: د دوی فيصله به د قيامت په ورځ کيږي، د ده په نسبت به منکرينو داسې ويل چې: ته پرله پسې قيامت قيامت وايې، که ته رښتينی يې نو راوښيه چې هغه ورځ به کله راځي؟ مطلب دا دی چې دغه خو تش ډارول او چټي انذاز دی، قيامت او نور هيڅ نشته.

قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنْفَعُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِيمَانُهُمْ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿٢٩﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې په ورځ د فتح (قيامت) کې هيڅ نفع به ونه رسوي هغو کسانو ته چې کافران شوي دي؛ ايمان راوړل د دوی (په دغه ورځ کې)، او نه به دوی ته مهلت ورکړ شي، او نه به دوی ته انتظار وکړ شي.

تفسير: يعنې اوس وخت دی چې د الله تعالی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خبرو يقين او باور وکړئ، او د هغې ورځې له عذابه ځان وژغورئ (وساتئ) !، او ورته بيخي آماده او تيار شئ ! وروسته له هغه چې قيامت شي، بيا ايمان او باور له سره نه پکاريږي، او نه به په سزا کې څه تأخير، تخفيف او مهلت وي، او نه مجرم ته داسې کومه موقع او فرصت ورکاوه کيږي، چې په هغه کې دی د خپلو اعمالو تعديل او اصلاح وکړي، او بيا خپل حساب او کتاب ته حاضر شي، نو د دغه وخت فرصت او مهلت غنيمت وګڼئ ! او په تکذيب او استهزاء خپل وخت مه ضايع کوئ ! هغه ساعت چې راتلونکی دی؛ يقيناً او قطعا راځي، او له سره په کې هيڅ ډيل، تعطيل او تأخير نشته، نو داسې پوښتنې او وينا بيخي فضولي او بېکاره دي، چې هغه ورځ به کله راځي؟ او څه وخت به دغه فيصله صادريږي؟.

فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانْتَظِرْ إِنَّهُمْ مُنْتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾

پس مخ وګرځوه ! له دوی نه، او منتظر اوسه (د الله نصرت ته)، بېشکه دوی هم منتظر دي (د غلبې په تا).

تفسير: يعنې هغه کسان چې داسې بې فکره او بې حسه دي، چې د انتهايي مجرموالي او د سزا د ورځې ګرځېدلو سره سره د فيصلې د ورځې او د سزا صدور پورې خاندي؛ نو له دوی څخه څرنګه داسې هيله او توقع کېدی شي چې ګوندې دوی په سمه لاره راشي؟، نو تاسې د خپل تبليغ او د دعوت د فريضې په اداء کولو کې مصروف او لګيا اوسئ ! او د دوی له زيات فکر او خيال څخه بيخي بې پروا شئ ! او هغوی پخپل سر پرېږدئ ! او د دوی د هلاکېدو او تباهۍ په انتظار کې اوسئ ! لکه چې هغوی هم پخپل زعم او اټکل (معاذ الله) ستاسې د تباهۍ او خرابۍ په انتظار کې دي، (و هذا قبل الأمر بقتالهم).

تمت سورة السجدة ولله الحمد والمنّة.

سُورَةُ الأَحزَابِ

«د (الأحزاب) سورت مدني دی، (٧٣) آيت (٩) رکوع لري، په تلاوت کې (٣٣) او په نزول کې (٩٠) سورت دی، وروسته د آل عمران د سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللَّهَ وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١﴾ وَاتَّبِعْ مَا يُوحَىٰ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿٢﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ﴿٣﴾

ای نبي (محمده !) وويرېره له الله څخه، او مه منه خبره د کافرانو او د منافقانو، بېشکه چې الله دی ښه عالم پر هر شي، ښه حکمت والا. او متابعت کوه ! (ای محمده !) د هغه (حکم) چې درلېږل شوی دی تاته له جانبه د رب ستا، بېشکه چې الله دی پر هغو کارونو چې کوئ يې تاسې ښه خبردار. او توکّل وکړه په الله، او کافي بس دی الله کار جوړوونکی (ستا).

تفسير: يعنې هم همغسې چې تر نن پورې معمول وو، وروسته له دې نه هم تل له يوه الله څخه ويرېږه ! او د کافرانو او منافقانو خبره له سره مه منه ! که دغه ګرد سره يو ځای شي او خپل لاسونه سره يو کړي، او راز راز حيلې هم جوړې کړي، او تاسې ته د دروغو مطالبات او د ټکۍ مشورې در وړاندې کړي، او وغواړي چې خپل طرف ته دې متمايل کړي؛ نو تاسې قطعًا او اصلاً د هغوی پروا مه کوئ ! او بې د الله تعالی څخه د بل هيڅا څخه خوف او اندېښنه مه کوه ! او د هم د هغه يوه الله خبره منه، او د هغه په دربار کې خپله غاړه ږده ! اګر که ګرد مخلوق سره يو ځای شي، او تاته راشي، د الله تعالی د احکامو په خلاف د هيڅا خبرو ته غوږ مه ږده ! الله تعالی پر ګردو احوالو ښه پوهېدونکی دی، الله تعالی په هر وخت کې هر حکم چې درکوي؛ په نهايت حکمت او مصلحت او خبرداری سره يې درکوي، او په هغه کې ستا اصلي خير او ښېګڼه ده، کله چې ته د الله تعالی پر احکامو تکۍ وکړې، او د ده پر لوی ذات توکل او اعتماد و لرې؛ نو دی به ستا ګرد امور پخپل فضل او مرحمت او قدرت سره جوړ کړي، يواځې د الله تعالی ذات د توکل او اعتماد وړ دی، هر څوک چې قلبًا، خالصًا، او مخلصًا په ده پورې خپل ځان وتړي، نو دی به په بل چا يا بلې خوا ته له سره خپل زړه نشي ترلی، هو ! که دی د دوو زړونو خاوند وی؛ نو طبيعي ده چې هغه بل زړه به يې بلې خوا ته درومي، ليکن د هر يو انسان په ټهر (سينه) کې فقط همدغه يو زړه وي.

مَّا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ ۖ وَمَا جَعَلَ أَزْوَاجَكُمُ اللَّائِي تُظَاهِرُونَ مِنْهُنَّ أُمَّهَاتِكُمْ ۖ وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءَكُمْ أَبْنَاءَكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ قَوْلُكُم بِأَفْوَاهِكُمْ ۖ وَاللَّهُ يَقُولُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيلَ ﴿٤﴾

نه دي پيدا کړي الله لپاره د هيڅ سړي دوه زړونه په دننه د ده کې، او نه دې ګرځولي (الله) ښځې ستاسې هغه چې ظهار کوئ تاسې له هغو څخه؛ ميندې ستاسې، او نه دي ګرځولي (الله) هغه څوک چې پر ځويتوب نيولي دې تاسې (ځامن بلل شوي ستاسې)؛ (واقعي) ځامن ستاسې، دغه (درې مذکوره خبرې چې - بېکاره) خبرې ستاسې دي په خولو ستاسې (چې هيڅ حقيقت نه لري)، او الله وايي حقه (رښتيا خبره) او همدغه الله ښيي لاره (سمه).

تفسير: يعنې څنګه چې انسان په ټټر (سينه) کې دوه زړونه نه لري؛ همداسې په حقيقت کې يو انسان يوه مينډې يا دوه پلرونه هم نه لري، د جاهليت په زمانه کې به که کوم سړي خپله ښځه مور وبلله؛ نو پخپل ځان يې د عمر کې به له هغې سره نه يوځای کېده، ګواکې دوی به داسې ګڼل چې په همدغه لفظ سره هغه ښځه د ده د حقيقي مور په شان وګرځېده، که چا ته به يې د خپل ځوی يا د لور نسبت کاوه؛ نو هغه به يې واقعًا خپل اولاد ګڼه، او د پلارتوب او ځوی توب ګرد احکام به پر هغو مترتّب کېدل، عظيم الشأن قرآن د دغې مصنوعي او لفظي تعلّق له حقيقي او فطري تعلّق ځنې د جلا کولو لپاره د دغو رسومو او مفروضاتو په ډېر تشديد او تهديد سره تردید وکړ، او دغه يې ښکاره کړه چې که څوک خپلې ښځې ته مور ووايي؛ په دغه تش ويلو سره هغه د ده واقعي مور نه ګرځي، که نه د دغې خبرې له منلو څخه دا لازميږي چې دغه سړی د دوو ښځو له ګډولو څخه پيدا شوی دی، يوه هغه چې دی يې ځېږولی دی، او دويمه دغه چې دی ورته مور وايي، په دغه صورت سره که څوک زيد خپل ځوی وبولي؛ نو د زيد يو پلار خو لا له پخوا څخه موجود وو، چې دی د هغه له نطفې څخه پيدا شوی دی، نو آيا د واقعيت له مخې دغه خبره ومنله شي چې زيد د دوو پلرونو څخه ببل ببل پيدا شوی دی، لکه چې داسې نه ده، نو د حقيقي مور او پلار او اولاد احکام پر دوی باندې نشي جاري کېدی، لکه چې خپلې ښځې ته د مور ويلو حکم د (تحريم) په سورت کې راځي، او د متبني (ځوی بللو) حکم وروسته له دې نه راځي، له دغو دواړو خبرو سره يې دغه درېمه خبره د تمهيد او تشريح په ډول هم واوروله، چې داسې ډېرې خبرې له ژبې او خولې څخه راووځي، چې په واقع کې حقيقت او واقعيت نه لري، لکه چې کوم غير مستقل مزاج يا دوه رګه انسان يا کوم قوي الحفظ او قوي القلب سړی يا داسې چا ته چې په يوه وخت کې د دوو مختلفو شيانو په طرف متوجه کېدی شي؛ داسې وايي چې دی د دوو زړونو خاوند دی، حال دا چې که څوک يې ټټر ورځيري کړي او ويې ګوري؛ نو هغه به ضرور هم هغه يو زړه لري، همداسې پر خپلې مور سربېره بله ښځه مور بلل، يا برسېره پر پلار بل کوم سړی پلار نيول، يا له خپل ځوی څخه پرته بل کوم هلک ته خپل ځوی ويل په واقع کې په دغو ګردو کې قطعًا نسبت نه ثابتيږي، نو ځکه نه ښايي چې د حقيقي او مصنوعي تعلّقاتو په منځ کې ګډون او خلط وکړی شي.

ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ

وبولئ تاسې دغه (ادعياء او منسوب) پلرونو د دوی ته، دغه (نسبت د دوی پلرونو د دوی ته) ډېر برابر (او غوره) دی په نزد د الله.

تفسير: يعنې ښه او د انصاف خبره خو دا ده چې د هر سړي نسبت د ده حقيقي پلار ته وکړ شي، که کوم سړی کوم هلک خپل ځوی وبولي (متبني يې وګرځي)؛ نو هغه د ده حقيقي پلار نشي کېدی، د اسلام په ابتداء کې رسول الله صلى الله عليه وسلم زيد بن حارثه آزاد کړ، او خپل متبنّي يې وګرځاوه، لکه چې سم له دستوره به خلقو هغه ته «زيد بن محمد صلى الله عليه وسلم» ويل، کله چې دغه آيات نازل شول؛ ګردو خلقو «زيد بن حارثه» ورته ويل.

فَإِنْ لَمْ تَعْلَمُوا آبَاءَهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ ۚ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَا أَخْطَأْتُمْ بِهِ وَلَٰكِن مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ۝٥

پس که نه پېژنئ تاسې (ای مؤمنانو !) پلرونه د دوی؛ پس دوی وروڼه ستاسې دي په دين کې او دوستان ستاسې دي (په دين کې)، او نشته پر تاسې (هيڅ) ګناه په هغه شي کې چې خطا شوي يئ تاسې په کې (لکه چې وايئ زيد بن محمد) وليکن شته ګناه په هغه شي کې چې قصد يې وکړي زړونه ستاسې، او دی الله ښه بخښونکی د (خطيّاتو) ډېر رحم کوونکی.

تفسير: يعني كه يې پلار نه وي معلوم؛ نو په هر حال ستاسې ورور او ديني ملګرى خو دى، نو په همدغو القابو سره يې يادوئ ! لكه چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم «زيد بن حارثه» ته ويل: «أنت أخونا ومولانا»، كه په هېره يا ناپوهى يا غلطى سره يې وويل چې: فلانى د فلاني ځوى؛ نو دغه معاف دى، د خطا او نسيان ګناه په هيڅ شي كې نشته، په دغه كې هم كه الله تعالى اراده وكړي؛ نو بخښي يې.

اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ ؕ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ اِلَّاۤ اَنْ تَفْعَلُوْۤا اِلٰۤى اَوْلِيٰٓـئِكُمْ مَّعْرُوْفًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ فِي الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ۝٦

(محمد د الله) نبي ډېر حقدار دى پر مؤمنانو له نفسونو د دوى، او ښځې د دغه (نبيّ الله) مينډې د دوى دي (تعظيمًا او تحريمًا)، او خاوندان د خپلوى ځينې د دوى ډېر وړ دي پر ځينو نورو (په ميراث كې) په كتاب (حكم) د الله كې له مؤمنينو (انصارو) او له مهاجرينو، مګر خو دا چې وكړئ (پخپل ژوند كې) له دوستانو خپلو سره څه احسان (يا د دوى لپاره وصيت وكړئ په درېيمه يا لږ له هغې)، دى دغه (ميراث په ايمان او په هجرت) په كتاب(قرآن يا لوح محفوظ) كې ليكلى شوى.

تفسير: كه په غور سره وليدل شي؛ د مؤمنانو په حق كې رسول الله صلى الله عليه وسلم د پلار په شان دى، بلكه له پلار څخه هم په مراتبو ډېر زيات دى، نو دغه به بيخي په ځاى او صحيح وي، لكه چې د ابو داود په سنن كې د «إنما أنا بمنزلة الوالد» الحديث، او د «أبيّ بن كعب» او نورو په قرائتونو كې د ﴿اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ﴾ آيت او د «وهو أبٌ لهم» جمله دا حقيقت څرګندوي، كه د پلار په تعلّق كې فكر وكړئ؛ نو د هغه حاصل همدا راوځي چې د ځوى جسماني وجود د پلار له جسمه راوتلى دى، او د پلار طبيعي شفقت او تربيت له نورو څخه زيات دى، ليكن آيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم تعلّق د ده له امّت سره له دې نه لږ دى؟ يقينًا د محمدي امّت ايماني او روحاني تربيت د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لوى روحانيت يوه پلوشه او د هغه سيورى دى، او هغه شفقت او تربيت چې د نبي صلى الله عليه وسلم څخه څرګند (ښكاره) شوى دى، د مور او پلار له طرفه لا څه بلكه په ټولو مخلوقاتو كې د هغه نمونه نشي موندلى.

د همدغو حقائقو په ملحوظ په احاديثو كې راغلي دي: «هيڅ يو له تاسې نشي مؤمن كېدى څو د ده په نزد زه له پلار او ځوى او نورو ټولو انسانانو بلكه د ده له خپله ځانه څخه هم ډېر زيات ګران او محبوب نه شم».

﴿وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ﴾ «او ښځې د نبي مينډې د دوى دي»، يعني ستاسې ديني مينډې دي، په تعظيم او احترام او په ځينو نورو احكامو كې چې د هغوى لپاره د شريعت له مخې ثابت شوي وي، نه په ټولو احكامو كې.

﴿وَاُولُوا الْاَرْحَامِ﴾ «او خاوندانو د خپلوى ځينې د دوى ډېر لايق دي په ځينو نورو الخ»، يعني له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره دوى خپل وطن پريښى دى، او له خپلو دوستانو او خپلوانو ځني ببل شوي دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم د مهاجرينو او د منورې مدينې د انصارو په منځ كې د دوو تنو په منځ كې ديني اخوّت او اسلامي وروري ټرلې وه، وروسته له دې چې د مهاجرينو نور خپلوان مسلمانان شول؛ نو دلته يې داسې وويل چې: د نسبي خپلوى رعايت په دغه مؤاخات ډومبى او مقدّم دى، ښايي چې ميراث او نور شيان د نسبي قرابت په اساس تقسيم كړل شي، هو ! ښايي چې ښه سلوك او احسان دې له هغو ملګرو څخه هم منع نه شي.

﴿كَانَ ذٰلِكَ فِي الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا﴾ «دى دغه ميراث او وصيت په كتاب: قرآن، لوح محفوظ كې ليكلى شوى»، يعني په قرآن كې دغه حكم د تل لپاره جاري او نافذ دى، يا به په تورات كې هم وي، يا به له كتاب څخه لوح محفوظ مراد وي.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا ﴿٧﴾

او یاد کړه (ای محمده !) کله چې واخیست مونږ له (ټولو) انبیاوو څخه عهد د دوی (په «ألستُ» کې، چې هم پخپله دده عبادت کوي، او هم دې نور ځما عبادت ته رابولي) او (بالخاصه) له تانه او له نوح او (له) ابراهیم او (له) موسی او (له) عیسی ځوی د مریمې نه (چې عبادت د الله کوئ)، او واخیست مونږ له دغو (ټولو انبیاوو) څخه (په قسم سره) عهد محکم.

تفسیر: یعنې دغه قول او اقرار چې یو به د بل تایید او تصدیق کوي، او د دین په قائمولو او د الله تعالی د پیغام په رسولو کې به له سره هیڅ قسم نقص او قصور نه کوي، په «آل عمران» کې د دغه میثاق ذکر تېر شوی دی.

لِّيَسْأَلَ الصَّادِقِينَ عَن صِدْقِهِمْ ۚ وَأَعَدَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٨﴾

لپاره د دې چې وپوښتي (الله) له صادقانو څخه له صدق (رښتیا) د دوی، او (الله) تیار کړی دی لپاره د کافرانو عذاب دردناک.

تفسیر: یعنې له قول او اقرار سره مطابق د انبیاوو پر ژبه یې خپل احکام خلقو ته ورسول، او د حجّت اتمام یې وفرمایه، بیا به له هر یوه څخه ببلې ببلې پوښتنې کوي، څو د صادقینو پر صداقت قائم پاتې کېدل ښکاره شي، او منکرینو ته د صدق پر انکار سزا ورکړه شي، وروسته له دې نه د «الأحزاب» د جنګ واقعه یادوي، چې د رښتین رسول الله صلی الله علیه وعلی آله وصحبه وسلم او د رښتینو مؤمنینو په مقابل کې د دروغجنانو منافقانو او د منکرانو څه حال او احوال شو؟ او د دوی د ظاهري ثمراتو او نتائجو ذکر کوي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَاءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَكَانَ اللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٩﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) یاد کړئ تاسې نعمت د الله پر تاسې کله چې په (غزوه د احزاب کې) راغللې تاسې ته لښکرې (د کفّارو)؛ نو راولېږو مو پر دوی باد او داسې فوځونه (د ملائکو) چې (هیڅ) نه لیدلې تاسې دوی، او دی الله پر هغو (کارونو) چې کوئ یې تاسې ښه لیدونکی.

تفسیر: د هجرت په څلورم او پنځم کال کې د «بني نضیرو» یهودان له منورې مدینې څخه وویستل شول، چې ذکر یې د «الحشر» په سورت کې راځي، دغه فراري یهودان کور په کور او قوم په قوم وګرځېدل، او هغوی یې د اسلام او مسلمینو په خلاف ولمسول، او ګرد یې د مسلمانانو په خلاف جنګ ته مستعد او تیار کړل، او د «بني فزاره» او «غطفان» او د عربو د نورو قبائلو تقریبا (١٢٠٠٠) دولس زره لښکر سره له پوره وسلو، سامان، تجهیزاتو او لوازمو د فتح او ظفر په نشو کې مست ورتوی شول، د «بني قُریظه وو» د یهودانو یوه ټینګه اوکلکه کلا د مدینې منورې په شرقي جانب کې وه، دوی پخوا له دې نه له مسلمانانو سره معاهده ترلې وه، بالآخر دوی د نضیري یهودانو په ترغیب او ترهیب هغه معاهده ماته کړه، او د متعارضینو د امداد او معاونت لپاره د مسلمانانو په خلاف ودرېدل، د مسلمانانو عمومي جمعیت ټول (٣٠٠٠) درې زره تنه وو، چې په هغه کې یو لوی تعداد منافقان وو، چې د تکلیف او سختۍ په وخت کې به یې د دروغو بهانې جوړولې، او د جنګ له میدانه به یې ورو ورو خپل ځانونه ایستل، رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه

مورد کې له مسلمانانو سره مشوره وکړه، بالآخر د پارسي سلمان رضي الله تعالى عنه په مشوره د ښار په اطرافو کې په هغو ځایونو کې چې د کفّارو د تعرّض او د حملې اندېښنه وه؛ خندقونه وکنستل شو، د سختې یخنۍ وخت وو، غله هم ډېره قیمته او ډېره لږه پیدا کېده، د لوږې له سببه أصحابو رضي الله تعالى عنهم أجمعین او پخپله رسول الله مبارک صلى الله عليه وسلم هم پر خپلو ګېډو تیږې تړلې وې، مجاهدین پر دغې سختې ځمکې کې په کودال وهلو مشغول او لګیا وو، او په خپلو منځونو کې به یې په ډېر جوش او خروش سره داسې ویل:

نحــن الذيـن بايعــوا محمـدا على الجهاد مـا بقينا أبــدا

بالمقابل ځمونږ د لوی سردار محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم سیّد الأبرار او أفضل الأخیار له طرفه به چې هغوی هم بالذات دخندق په کنستلو کې مشغول وو؛ د دوی ځواب داسې ویلی کېده:

اللهم لا عيش إلا عيش الآخرة فاغفر للأنصار و المهاجرة

کله چې خندق تیار شو؛ نو اسلامي مجاهدین د متعارضینو په مقابل کې په خپلو سنګرونو او مورچو کې ټینګ ودرېدل، تقریبًا تر پنځه ویشتو ورځو پورې دواړه فوځونه سره مخامخ پراته وو، او د دغو دواړو قومونو په منځ کې خندق حائل وو، سره له دې چې د کفّارو تعداد ډېر زیات وو، خو د دوی له لاسه ونشو چې له خندقه تېر او پر ښار عمومي هجوم راوړي، مګر له لرې ځنې به یې غشي ویشتل، او کله کله به د فریقینو مخصوص ځلمیان د مبارزې په ډګر کې هم سره وتل، د مشرکینو او د بني قریظه وو د یهودانو په منځ کې مسلمین د محصورینو حیثیت درلود، خو سره له هغه دوی ټولې ښځې او ووړکي د ښار په مضبوطو او محفوظو انګړونو کې خوندي کړل، او دوی پخپله په ډېر شجاعت او استقامت سره د ښار محافظت او مدافعت کاوه، بالآخره د «نعیم بن مسعود الأشجعي» رضي الله تعالى عنه د یوه عاقلانه او لطیف تدبیر په اثر د مشرکینو او د بني قریظه وو د یهودانو په منځ کې اختلاف او مشاجره واقع شوه، له بل طرفه د کفّارو په زړونو کې د الله تعالى د غیر مرئي فوځونو له لورې وېره او رُعب وغورځاوه شو، په همدغه ضمن په یوه شپه کې یوه سخته ویروونکې سیلۍ راوالوته، چې د هغې په اثر د دوی ټولې خیمې او کیږدۍ وشلېدلې، او له ځمکې څخه وشکولی شوې، او ډېرې لرې ولوېدلې، د دوی ګرد څاروي او حیوانات توري شول، اورونه یې مړه او دیګونه او لوښي یې په بل مخ نسکور او ګرد سره مات او ګډوډ شول، شګې به په داسې شدّت سره الوتلې چې د دوی سترګې، خولې، پوزې او غوږونه تړې ډک پک شول، بالجمله دکفارو دغه عظیم الشأن لښکر چې تر (۲۴۰۰۰) تنو ځلمیانو پورې رسېدل؛ په تېښته او فرار مجبور شول، او ګرد ناامیده بېرته ستانه شول: ﴿وَكَفَى اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ الْقِتَالَ ۚ وَكَانَ اللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا﴾ دغه جنګ ته د «أحزاب» یا د «خندق» جنګ وایي، د سخت برودت او سختو لوږو په وخت کې داسې خندق کنستل او د دغومره دښمنانو په مقابل کې په مېړانه سره ټینګ ودرېدل داسې اوضاع او حالات وو، چې د منافقانو د زړونو پټې خبرې یې څرګندې کړې، او د مؤمنینو ثبات او استقامت په ښه شان سره تثبیت شو، په همدغه جنګ کې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل چې: وروسته له دې نه به بیا کفّار پر مونږ تعرّض نه کوي، بلکه بالعکس مونږ به پر هغو هجوم وروړو، لکه چې همداسې هم وشول.

إِذْ جَاءُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنكُمْ

(یاد کړئ) کله چې راغللې (لښکرې د کفّارو) تاسې ته له پاسه (جانبه) د تاسې، او له ښکته (جانبه) د تاسې.

تفسیر: یعنې د منورې مدینې په شرقي جانب چې جګ (وچت) دی، او له غربي جانبه چې ښکته دی.

وَإِذْ زَاغَتِ الْأَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِاللَّهِ الظُّنُونَا ﴿١٠﴾

او کله چې کړې خړې شوې سترګې (له ډېرې وېرې)، او ورسېدل زړونه چنغړ کو ته (له ډېره خوفه)، او ګمانونه کول تاسو پر الله راز راز ګمانونه.

تفسير: يعنې له ډېره دهشته او حيرته سترګې ردې بدې پاتې شوې، او د خلقو اشکال او بنې والوتې، د دوستۍ او خپلوۍ مدّعيانو به ځانونه پټول، او له سترګو ځنې به يې ځان ګوښې کاوه، او ورسېدل زړونه چنغړ کو بيخونو د مريو ته، يعنې له ډېر خوف او هراسه زړونه لړزېدل، او داسې زور او شدّت سره له خپله ځايه غورځېدل، لکه چې د ستونې له لارې د باندې راوتل، او ګمانونه وکړل تاسو پر الله تعالى راز راز ګمانونه، يعنې يو به په يو شي پوهېده، او بل به بل شى اټکلاوه، مسلمانانو به داسې ګڼل چې دا ځلې يو بل قسم سخت امتحان راباندې راغلى دى، ګورو چې مونږ ته په دغه آزموينه کې څه راپېښېږي؟ ناقص الايمان کسانو به داسې ګڼل چې اوس له دغې پېښې څخه ځمونږ ژوندي وتل سخت او مشکل دي، د منافقينو له احوالو خو له سره پوښتنه مه کوئ، چې هغوى په څه حال کې وو؟ د منافقينو مقولې وروسته راځي:

هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُونَ وَزُلْزِلُوا زِلْزَالًا شَدِيدًا ﴿١١﴾

په دغه وخت کې وازمويلى شول مؤمنان، او وخوځولى شول په خوځولو سختو سره (له ډېرې وېرې).

تفسير: رسول الله صلى الله عليه وسلم «حُذيفة رضي الله تعالى عنه» ولېږه، څو د دښمن صحيح احوال راوړي، د دغې واقعې مفصله قصه دې په حديث کې ولوستله شي، څو د دغه تردّد او تذبذب او اندېښنې د کيفيت اندازه ترې وشي، دلته د هغې د ترجمې ګنجايش نشته.

وَإِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢﴾

او (ياد کړه هغه وخت) کله چې وويل منافقانو او هغو کسانو چې په زړونو د دوى کې مرض (د نفاق) وو چې: نه ده وعده کړې له مونږ سره الله او د هغه رسول مګر په غرور تيرايستلو سره.

تفسير: ځينو منافقينو به داسې ويل چې: محمد صلى الله عليه وسلم به داسې دعوې کولې چې ځما دين تر مشرقه او مغربه خور او منشوريږي، او د روم، پارس او صنعا بنګلې او مانې ماته راکړى شوي دي، حال دا چې اوس مسلمانان د اودس د تجديد لپاره هم له خپلو سنګرونو څخه نشي وتلى، هغه وعدې چېرې لاړې؟ شاه صاحب فرمايي: «مسلمانانو ته ښايي چې اوس هم د ناامېدۍ په وخت کې د بې ايمانۍ خبرې ونه کړي !».

وَإِذْ قَالَتْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ يَا أَهْلَ يَثْرِبَ

او کله چې وويل يوې طائفې له دغو (منافقانو) چې اى اهل د يثربه (مدينې).

تفسير: «يَثرِب» د طيبې مدينې قديمي نوم وو، کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه ځاى ته تشريف راوړ؛ د يثرب نوم په «مدينة النبي» سره تبديل شو.

لَا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوا ۚ وَيَسْتَأْذِنُ فَرِيقٌ مِّنْهُمُ النَّبِيَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ ۛ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ۚ إِن يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارًا ﴿١٣﴾

نشته ځای (د هستوګنې) تاسې ته؛ پس بېرته وګرځئ، او اذن (د بېرته تللو) غواړي یو فریق ډله له دوی له نبي، وایي چې: بېشکه کورونه ځمونږ تش پراته دي (له سړیو)، حال دا چې نه دي تش پراته کورونه د دوی، نه لري اراده (په دغه تګ سره) مګر د تېښتې (له جنګه).

تفسیر: یعنې ګرد عرب ځمونږ دښمنان شول، او ځمونږ لپاره هیچېرې د توقّف او د هستوګنې ځای پاتې نشو، ټول له اسلامي لښکر جلا او خپلو کورونو ته لاړ شئ ! رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د اسلامي مجاهدینو د باندې ولاړ وو، او د ښار د مضبوطو او محفوظو انګړونو په مزید تأمین او تحکیم او په هغو کې د ښځو او ووړکو په خوندي کولو او ځای په ځایولو کې مشغول وو، په دغه وخت کې به دغو منافقینو داسې پلمې او بهانې سره کولې؛ چې ځمونږ کورونه د باندې په ډاګه میدان کې پراته دي، مونږ له دې نه ویریږو نه چې غله ځمونږ په کورونو ولویږي، او ځمونږ ګرد مال او شته به تالا او لوټ یوسي، دغه محض د دروغو بهانې او پلمې وې، او له داسې خبرو ځخه د دوی مقصود دا وو چې په کوم چل او فریب سره خپل ځان د جنګ له میدانه وباسي، لکه چې هومره سړیو چې له محمد صلی الله علیه وسلم ځخه اجازه وغوښتله؛ دوی هغو ګردو ته اجازه ورکړه، او د مرخصینو د تکثیر او تزیید هیڅ پروا یې ونه کړه، له ځینو روایتونو ځخه داسې معلومیږي چې فقط درې سوه نفوس له دوی سره باقي پاتې شول.

وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِم مِّنْ أَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا الْفِتْنَةَ لَآتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوا بِهَا إِلَّا يَسِيرًا ﴿١٤﴾

او که رانه ایستی شي پر دوی (دغه کفّار په مدینه کې او ترې چاپېر شي) له اطرافو د دغې (مدینې)، بیا طلب کړل شي ترې فتنه (شرک یا له مسلمانانو سره جنګ)؛ نو خامخا رابه شي دوی هغې (فتنې) ته، او ځنډ به ونه وکړي په دغې (قبول د فتنې) کې مګر لږ.

تفسیر: یعنې منافقان د دروغو حیلې او بهانې جوړوي، فرض یې کړئ که دغه کسان په ښار کې هم وی، او کوم یو دښمن د دې خوا یا د هغې خوا راشي، یا پر دوی ورتوی شي، او له دوی ځخه داسې یوه مطالبه وکړي، چې د اسلام دغه دین پرېږدئ، چې تاسې ظاهرا هغه منلی دی، یا ورته وویل شي چې: راځئ چې له مسلمانانو سره وجنګیږو، نو دوی سمدلاسه د جنګ او فتنې او فساد اچولو لپاره ولاړ او تیاریږي، او په دغه وخت کې د دوی دغه مکر او فریب او دروغ په ښکاره ډول سره ظاهریږي، ځکه چې علی الفور دوی د کفّارو د هغو مطالباتو د تعمیل لپاره خپلې ملاوې ترې، او د دوی مرستې او تایید ته چټ پټ ودریږي، نه به د خپلو کورونو د خالي کېدو او بې سر پرستۍ او د ساتلو عذر وړاندې کوي، او نه د هغو د غلا او لوټېدلو او په تاراج تللو ځخه ځه اندېښنه کوي، ماسوا له هغه توقّفه چې په دغو مذاکراتو او د وسلې په اخیستلو کې واقع شوی دی.

وَلَقَدْ كَانُوا عَاهَدُوا اللَّهَ مِن قَبْلُ لَا يُوَلُّونَ الْأَدْبَارَ ۚ وَكَانَ عَهْدُ اللَّهِ مَسْئُولًا ﴿١٥﴾

او خامخا په تحقیق وو دوی چې وعده یې کړې وه له الله سره پخوا له دې نه چې وبه نه ګرځوي (په جنګ کې) شاوې خپلې (او نه به تښتي)، او دی عهد د الله پوښتېدلی شوی.

تفسیر: شاه صاحب (رحمه الله) لیکي چې: «وروسته د احد له جنګه منافقانو اقرار کړی وو، چې بیا به مونږ داسې یو حرکت ونه کړو»، د دغه مخالفت پوښتنه به الله تعالی له دوی ځنې وکړي، چې ستاسې هغه قول او اقرار چېرې لاړ؟.

قُلْ لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ اِنْ فَرَرْتُمْ مِّنَ الْمَوْتِ اَوِ الْقَتْلِ وَاِذًا لَّا تُمَتَّعُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿١٦﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) چې له سره به نفعه نه رسوي تاسې ته تښته كه چېرې وتښتئ تاسې له مرګه يا له قتله، او كله چې وتښتېدئ؛ نو ژوندي به پاتې نه كړى شئ مګر لږ (مدّت).

تفسير: يعنې د هر چا په قسمت كې چې مرګ دى؛ هغه هيڅېرې په تښتېدلو سره له مرګه ځان نشي ژغورلى، د الله تعالى قضا هر چېرې انسان ته رسيږي، او كه اوس مرګ ستاسې لپاره نه وي مقّدر؛ نو له ميدانه څخه تښتېدل بېكاره دي، آيا دوى د جنګ په ميدان كې ټول وژل كيږي؟ او فرض يې كړئ كه د جنګ له ميدان وتښتئ؛ نو بيا به له مرګه مأمون يئ؟ آيا دغه مأمونيت به تر څو پورې وي؟ بالآخر مرګ خو راتلونكى دى، كه اوس رانشي؛ نو څه موده وروسته خو خامخا راتلونكى دى، خو معلوم نه دى چې په څومره ذلّت او خوارى سره به راځي؟.

قُلْ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَعْصِمُكُمْ مِّنَ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَ بِكُمْ سُوْٓءًا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ؕ وَلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿١٧﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) څوك دى هغه (ذات) چې وساتي تاسې له (عذابه) د الله كه چېرې وفرمايي الله په تاسې باندې د بدى (هزيمت)، يا اراده وفرمايي په تاسې باندې د رحمت، نصرت، او نه به مومي دوى خپلو ځانونو ته بې له الله كوم دوست (نافع) او نه كوم مددګار (دافع د ضرر).

تفسير: يعنې د الله تعالى اراده هيڅ يو زور او طاقت نشي ګرځولى، نه كومه حيله او تدبير د هغه په مقابل كې كار كولى شي، انسان ته لازم دي چې پر پاك الله توكل وكړي، او په هر حال د الله تعالى د مرضى غوښتونكى وي، كه نه د دنيا نيكي يا بدي، سختي يا نرمي خو يقيناً رسېدونكي دي، نو بيا د الله تعالى د احكامو په تعميل او د ده په لار كې به ولې انسان خوف، وېره او ډار له خپله ځانه بېكاره كړي؟، او په لازمه وخت كې ولې ځان ترې بېل او لرې كړي؟، او په لوى لاس خپل عاقبت خراب كړي، او له تكليفه څخه هم خپل ځان خلاص نشي كړى.

قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الْمُعَوِّقِيْنَ مِنْكُمْ وَالْقَآئِلِيْنَ لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ اِلَيْنَا ۚ وَلَا يَاْتُوْنَ الْبَاْسَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿١٨﴾

په تحقيق سره معلوم دي الله ته منع كوونكي (له جهاده) له تاسې او ويونكي ورونو خپلو ته (چې) راشئ ځمونږ په لوري (چې آرام وكړئ)، او نه راځي دوى جنګ ته مګر لږ (كله نه كله).

تفسير: يعنې د ريا له سببه يا له شرم او ننګ او د نورو په ترهيب او ترغيب كله كله د جنګ ميدان ته راځي، او د نورو حقيقي مجاهدينو په څنګ كې ودريږي، كه نه عمومًا دوى پخپلو كورونو كې او په خپل عيش او عشرت، مزو او چرچو كې مشغوليږي، او خپلو نورو عزيزانو او خپلوانو ته چې صادق مسلمانان دي؛ هم وايي چې جهاد ته مه ځئ ! او دوى جهاد ته له وتلو څخه منع كوي.

اَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۚ

بخيلان دي (په اعانت له تاسې سره او انفاق) پر تاسې.

تفسير: يعنې د مسلمانانو د امداد او معاونت څخه ځان ساتي، او د دوى له هر قسم همدردى او خير غوښتلو او خير رسولو ځنې بخل كوي، هو ! كه غنيمت مواقع راشي؛ نو د ډېر حرص او طمع لامله غواړي چې بل هيڅا ته دې هيڅ

شی ورنه کړه شي، او دغه ګرد مال او غنیمت دې یوائې ځمونږ برخه شي، او په همدغه امید او هیله ځینې په جنګونو کې هم حسب الظاهر شرکت کوي.

فَإِذَا جَاءَ الْخَوْفُ رَأَيْتَهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ تَدُورُ أَعْيُنُهُمْ كَالَّذِي يُغْشَىٰ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۖ فَإِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ سَلَقُوكُم بِأَلْسِنَةٍ حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ

پس کله چې راشي وېره (د دښمن)؛ نو وبه ویني ته دوی ګوري به دوی تاته (ویریدونکي) چې چاپېر به چورلي (ګاټي د) سترګو د دوی په شان د هغه انسان چې بیهوشي راوستلې شوي وي پر هغه له (وجه د سکراتو د) مرګه، پس بیا کله چې لاړه شي دغه ویره (او ټول شي غنائم)؛ نو ضرر دررسوي دوی تاسې ته په ژبو تېرو سره په دغه حال چې بخیلان (حارصان) وي په خیر (او لاس اچوي په غنیمت).

تفسیر: یعنې د سختۍ او تنګسې په وخت کې د رفاقت ځخه ځانونه بېرته واپس کوي، او له ډېرې وېرې یې ساه راخیژي، وروسته له بري او فتح راځي، او له خپل ځانه خبرې جوړوي او خپل شجاعت او مېړانه ښکاره کوي، او له ډېر حرص او طمعې د غنیمت پر اموالو پرمخي نسکور لویږي، یا یې دا مطلب چې د اسلام او مسلمانانو پر خلاف په طعنو او تشنیعو کې خوله سپړي او ژبه کوي.

أُولَٰئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوا فَأَحْبَطَ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا

دغه (کسان د جنګ ګیدړان او د ولجې زمریان) ایمان یې نه دی راوړی (په اخلاص سره) پس خراب (باطل) کړل الله عملونه د دوی، او دی دغه (ابطال د اعمالو) پر الله آسان.

تفسیر: یعنې تر څو پر الله تعالی او رسول الله ایمان رانه وړي؛ د دوی هیڅ یو عمل نشي مقبول واقع کېدی.

يَحْسَبُونَ الْأَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوا ۖ وَإِن يَأْتِ الْأَحْزَابُ يَوَدُّوا لَوْ أَنَّهُم بَادُونَ فِي الْأَعْرَابِ يَسْأَلُونَ عَنْ أَنبَائِكُمْ ۖ

ګمان کوي (دغه منافقان) پر لښکرو (د کفّارو) چې نه دي تللي (بېرته په ماتې)، او که چېرته بیا راشي لښکر د (کفّارو جنګ ته)؛ نو دوست ګڼي (منافقان) دا چې کاشکې دوی اوسیدونکي وي په (لریو کلیو د) اعرابو کې، چې پوښتنې به یې کولې (له لرې) له (احوالو) خبرونو ستاسې.

تفسیر: یعنې د کفارو لښکرې ناکامه بېرته لاړې، لیکن دغه ویریدونکي منافقان لا تر اوسه هم نه دي متیقن چې هغوی ماتې موندلې ده، او فرض یې کړئ ! که د کفارو افواج بیا بېرته وګرځي، او پر مسلمانانو حمله او یرغل وکړي؛ نو د دوی همدغه هیله او تمنّا وه که وروسته له دې نه د جنګ تر ختمه پورې بیخي په ښار کې هم ونه اوسیږي، او چېرته کوم کلي ته ولاړ شي، او هم هلته لرې ناست نندارې وکړي، او له تلونکیو او راتلونکیو ځخه پوښتنې وکړي، چې مسلمانان څه حال لري؟ او د جنګ نخچه او وضعیت څرنګه دی؟.

وَلَوْ كَانُوا فِيكُم مَّا قَاتَلُوا إِلَّا قَلِيلًا

او که چېرې وئ (دغه منافقان) په تاسې کې نو جنګ به یې نه وو کړی دوی مګر لږ (لپاره د ریا).

تفسير: يعنې د خولې پر خبرو کې ستاسې خير غوښتنه په ظاهري ډول سره ښکاره کوي، او په جنګ کې زيات کار نه کوي، او تش د مجبوريت او ضرورت لامله چې نوم يې وشي په جنګ کې شرکت کوي.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾

خامخا په تحقيق ده تاسې ته په رسول الله کې اقتداء غوره نېکه لپاره د هغه چا چې وي دی چې ډاريږي د الله (او اميد لري د رضاء او د لقاء يې) او د ورځې وروستنی (د قيامت)، او يادوي الله ډېر (هم په خوله، هم په زړه، هم په راحت، هم په زحمت).

تفسير: يعنې رسول الله ته وګورئ ! چې په دغو سختيو کې څرنګه ثبات لري، حال دا چې له ګردو ځنې د زياتې اندېښنې او فکر زور پر دوی لويږي، مګر امکان نه لري چې لږ څه د دوی په استقامت کې تزلزل واقع شي، هغه خلق چې د الله تعالی د رضاء او لقاء هيله من او د آخرت د ثواب د حصول اميدوار دي، او په کثرت سره د الله تعالی په ذکر او ياد کې مشغول دي؛ د هغوی لپاره د رسول الله ذات ډېر ښه نمونه ده، ښايي چې دوی په عباداتو، معاملاتو، مأکولاتو، مشروباتو، ملبوساتو، بلکه په هر حرکت او سکون او ناسته او ولاړه کې د دغه جامع الصفات ذات د قدم پر نقش حرکت وکړي ! او په همت او شجاعت د دوی د عمل د طرز متابعت وکړي ! او په ښه شان سره يې زده کړي !.

وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ قَالُوا هَٰذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ ۚ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا ﴿٢٢﴾

او کله چې وليدل مؤمنانو لښکرې (د کفّارو) نو وويل (مؤمنانو) دا هغه دي چې وعده کړې ده له مونږ سره الله او رسول د دغه (الله د نصرت)، او ږښتيا ويلي وو الله او رسول د (الله په وعده کې)، او زيات نه کړ دغو (لښکرو د کفارو) مؤمنانو ته مګر ايمان او تسليم (احکامو د الله ته).

تفسير: يعنې کله چې پخو مسلمانانو وليدل چې د کفارو افواج سره يو ځای شوي دي، او له ځلورو خواوو څخه پر مونږ راتويږي؛ نو د دې په ځای چې وارخطا شي، د دوی يقين او باور د الله تعالی او د رسول الله پر وعدو لا زيات شو، او دوی به داسې ويل چې: دغه خو هم هغه منظره ده چې د هغه خبر الله تعالی او رسول الله پخوا له دې نه ورکړی وو، او د ده په متعلق د الله تعالی وعده لا له پخوا څخه شوې وه، لکه چې (د البقرې سورت په (٢٦) رکوع (٢١٤) آيت کې) يې فرمايلي دي: ﴿أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلِكُم ۖ مَّسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّىٰ يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَىٰ نَصْرُ اللَّهِ ۗ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ﴾ او (د ص د سورت په (١) رکوع (١١) آيت (٢٣) جزء کې يې چې مکي دی) فرمايلي دي: ﴿جُندٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُومٌ مِّنَ الْأَحْزَابِ﴾.

مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا ﴿٢٣﴾

ځينې له مؤمنانو څخه (داسې) سړي دي چې ږښتيا کړې يې ده هغه خبره چې عهد کړی وو دوی له الله سره په هغې باندې (چې ثبات، استقامت في القتال دی)، پس ځينې له دوی هغه دي چې تر سره يې کړ نذر خپل (چې مړ شو يا شهيد)، او ځينې له دوی هغه دي چې انتظار کوي (دغه مړ ځ يا شهادت ته)، او بدل يې نه کړ (عهد خپل يو ذره هم) په بدلولو سره.

تفسير: يعنې هغه وعده چې منافقينو کړې وه، او د هغې ذکر په پخواني رکوع کې په دغو الفاظو سره شوی وو: ﴿وَلَقَدْ كَانُوا عَاهَدُوا اللَّهَ مِن قَبْلُ لَا يُوَلُّونَ الْأَدْبَارَ﴾ هغه يې ماته کړه، او په ډېرې بېحيايۍ او بې شرمۍ سره د جنګ له ميدانه په څنګ شول، پر عکس د دوی ډېر زيات داسې پاخه مسلمانان هم شته چې هغو خپل عهد او پيمان په صداقت او امانت پای ته ورسوه، او د ډېرو زياتو سختيو په اوقاتو کې هم د دين له حمايته او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له نصرته، او د مسلمانانو له رفاقته يو قدم هم بېرته پاتې نه شول، کوم عهد او پيمان او ژبه چې دوی د الله جل جلاله او رسول الله صلى الله عليه وسلم سره کړې وه؛ د غره په شان پرې ټينګ ولاړ وو، له دوی نه خو ځينې کسان هغه دي چې خپله ذمه واري يې پوره کړې وه، يعنې په جهاد کې د شهادت په درجه نائل شوي دي، لکه د «بدر» او «احد» شهداء چې په دوی کې د أنس بن النضر رضي الله تعالى عنه قصه ډېره مشهوره ده، او زيات مسلمانان هغه دي چې په ډېره مينه او اشتياق سره في سبيل الله موت په انتظار کې دي، په هر حال دغه دواړه قسمه مسلمانان چې د الله په لاره کې يې ځان قربان کړی دی، يا د شهادت مشتاق دي؛ د خپلو عهدو او پيمانونو پوره حفاظت يې کړی دی، او له خپلو خبرو څخه يې د يوې ذرې په اندازه هم تجاوز نه دی کړی.

لِّيَجْزِيَ اللَّهُ الصَّادِقِينَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنَافِقِينَ إِن شَاءَ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٢٤﴾

لپاره د دې چې جزاء ورکړي الله رښتينو ته په (سبب د) رښتينې د دوی، او په عذاب به کړي منافقان که اراده وفرمايي (د تعذيب يې)، يا رجوع په رحمت سره وکړي پر دوی (چې ايمان راوړي)، بېشکه چې الله دی ښه بخښونکی (د خطيّاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: يعنې هغو ته چې په خپل عهد باندې ټينګ ولاړ وو، او په خپل قول او اقرار کې رښتين پاتې شوي دي، پر دغه رښتيا ټينګ پاتې کېدلو بدل به وررسيږي، بد عهد او منافقانو ته که اراده وفرمايي؛ سزا ورکوي، او که اراده وفرمايي؛ د توبې توفيق ور په برخه کوي او معافوي يې، او دغه د الله تعالى له مهربانۍ څخه بعيد نه دی.

وَرَدَّ اللَّهُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوا خَيْرًا ۚ

او بېرته وشړل الله (له مدينې نه) هغه کسان چې کافران شوي وو (په ماتې بې له جنګه) سره له قهره خپله (ډک زړونه) چې ويې نه موند هيڅ خير (برې پر مؤمنانو).

تفسير: يعنې د کفارو افواجو سره له ذلت او ناکامۍ په دغه حال کې چې له ډېره قهره او غوصې به يې غاښونه چيچل؛ د جنګ ميدان پرېښود، او بېرته خائب او خاسر خپلو کورونو ته لاړل، هو ! د عمرو بن عبدِوُدّ په شان د کفّارو ډېر نومياڼي چې خلقو به ده ته د يو زړو سورو په شان اهميت ورکاوه؛ په دغه جنګ کې د سيدنا علي رضي الله عنه په توره ووژل شو.

وَكَفَى اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ الْقِتَالَ ۚ وَكَانَ اللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا ﴿٢٥﴾

او کفايت وکړ الله مؤمنانو ته د جنګ کولو (په امداد د پرښتو)، او دی الله قوي ښه زورور (په انفاذ د احکامو) ډېر زبردست (په هر چا او په هر شي).

تفسير: يعنې له مسلمانانو سره د عمومي جنګ او جګړې وار ونه رسېد، الله تعالى په خپل قدرت سره ډېره سخته سيلۍ پر دوی مسلطه کړه، او د پرښتو لښکر يې ورولېږه، او داسې آثار يې پيدا کړل چې کفار په خپل سر وارخطا او پرېشان شول، او فرار يې پر قرار اختيار کړ، د پاک الله د زورور او زبردست قوّت په مقابل کې څوک ودرېدی شي !؟.

وَأَنزَلَ الَّذِينَ ظَاهَرُوهُم مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِن صَيَاصِيهِمْ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيقًا تَقْتُلُونَ وَتَأْسِرُونَ فَرِيقًا ﴿٢٦﴾

او راکوز کړل (الله) هغه کسان چې کومک يې کړی وو له دغو (ډلو د احزابو) سره له اهل د کتابه (چې بني قريظه وو) له کلاګانو د دوی، او وغورځوله (الله) په زړونو د دوی کې وېره (د رسول الله او د مؤمنانو)، يوه ډله وژله تاسې، او بندي کوله به تاسې بله ډله.

تفسير: دغه د بني قُريظه وو يهودان دي چې د منورې مدينې په شرقي جانب کې د دوی يوه ټينګه او مضبوطه کلا وه، او دوی لا له پخوا له مسلمانانو سره د روغې معاهده درلوده، ليکن دغه د احزابو په جنګ کې (د حُيي بن أخطب) په اغواء او لمسونه دوی هغه ګرد معاهدات نقض کړل، او د مشرکينو په امداد ودرېدل، کله چې د قريشو کُفّار عاجز او ناچاره شول، او ببرته لاړل؛ نو بني قُريظه په خپلو ټينګو او مضبوطو کلاوو کې ننوتل، او دروازې يې کلکې وتړلې، کله چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د احزابو له جنګه فارغ شو، او په غسل مشغول وو؛ جبرئيل عليه السلام تشريف راوړ، حال دا چې د جبرئيل عليه السلام پر څهره هم د دوړو او غبار آثار وو، او ويې ويل: يا رسول الله ! تاسې له خپل ځان وسلې ايسته کړي دي، حال دا چې پرښتې لا هم هغسې مسلحې پخپلو وظايفو کې مشغولي دي، الله تعالى حکم درکوي چې پر بني قُريظه وو دې حمله وکړه شي !، فوراً منادی وشوه، چې «د بني قريظه وو عهد ماتوونکيو يهوديانو باندې د يرغل (حملې) وروړلو حکم دی !»، نو اسلامي افواجو په منتهى سرعت سره د دوی کلاوې تر محاصرې لاندې ونيولې، دغه محاصره تر څلورويشتو يا پنځه ويشتو ورځو وه، بالآخر محصورين ناطاقته شوه، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حضور د پيغامونو په لېږلو يې شروع وکړه، بالآخر د دوی له طرفه دغه خبره ومنله شوه، چې «مونږ له خپلو کلاوو څخه د باندې راووځو او د «اوس» د قبيلې مشر سعد بن معاذ رضي الله تعالى عنه خپل منځګړی حَکَم او منصف دروو، ځکه چې هغه د دوی حليف وو، هر هغه فيصله چې سعد ځمونږ په نسبت صادره کړه؛ مونږ يې منو»، د دوی دغه خبره رسول الله صلى الله عليه وسلم هم ومنله، لنډه يې دا چې سعد رضي الله تعالى عنه تشريف راوړ، د يوه مسلم حَکَم په حيثيت يې فيصله وکړه چې: «د بني قريظه وو ګرد جنګي ځلميان دې ووژلی شي ! او ښځې او ووړکي دې ټول د مريټوب په قيد کې ونيولی شي !»، سم له دغې فيصلې سره څو سوه ځلمي يهودان ووژل شول، او څو سوه ښځې او ووړکي قيديان شول، او د دوی پر املاکو او اموالو مسلمانانو قبضه وکړه.

وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ وَأَرْضًا لَّمْ تَطَئُوهَا وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرًا ﴿٢٧﴾

او په ميراث يې درکړه تاسې ته ځمکه د دوی او کورونه د دوی او مالونه د دوی او هغه ځمکه چې نه وه پايمال کړې تاسې هغه (په ځغلولو د اسونو سره)، او دی الله پر هر څيز باندې ښه قادر.

تفسير: دغه ځمکه چې منورې مدينې ته نژدې ده؛ په لاس ورغله، رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه پر مهاجرينو باندې تقسيم کړه، او په دغه سره د دوی د معاش وسيله پيدا شوه، او د دوی د ژوندون بار د انصارو له اوږو څخه لرې شو، له نورو ځمکو څخه مراد د خيبر ځمکې دي چې له دغې واقعې څخه دوه کاله وروسته د مسلمانانو په لاس ورکړی شوې، او په هغو سره نبوي اصحاب خوشاله شول، ځينې وايي چې: بله ځمکه معظمه مکه ده، ځينې ترې د پارس او روم ځمکې مرادوي، چې وروسته له رسول الله صلى الله عليه وسلم د راشدو خلفاوو رضي الله تعالى عنهم أجمعين په لاس فتحه شوې، ځينې وايي: تر قيامت پورې هومره ځمکې چې د مسلمانانو په لاس فتحه کيږي؛ هغه ګردې په دې کې شاملې دي، والله أعلم.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدۡنَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيۡنَ أُمَتِّعۡكُنَّ وَأُسَرِّحۡكُنَّ سَرَاحٗا جَمِيلٗا ﴿٢٨﴾ وَإِن كُنتُنَّ تُرِدۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ فَإِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلۡمُحۡسِنَٰتِ مِنكُنَّ أَجۡرًا عَظِيمٗا ﴿٢٩﴾

ای نبي ! ووایه ته ښځو خپلو ته ! که چېرې یئ تاسې چې غواړئ همدغه ژوندون لږ خسیس او ښایست رونق د هغه؛ پس راشئ چې څه فایده درورسوم تاسې ته، او خوشې کړم تاسې په خوشې کولو نېکو سره. او که یئ تاسې چې اراده لرئ د الله او د رسول د (الله) او د کور د آخرت (او د نعمتونو د جنّت)؛ پس بېشکه الله تیار کړی دی لپاره د نیکي کوونکیو (ښځو) له تاسې نه اجر ډېر لوی.

تفسیر: د رسول الله صلی الله علیه وسلم مطهّراتو ازواجو کله چې ولیدل ټول خلق ماړه شول؛ نو ویې غوښتل چې ښایي ځمونږ د ژوندون وسائل هم په ښه صورت سره شي !، نو له دوی څخه ځینو بیبیانو له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په دغه مورد کې خبرې اترې وکړې، او ترې ویې غوښتل چې ځمونږ د مزیدو نفقو او سامانونو تهیه وفرمایې !، څو مونږ هم لکه د نورو مسلمانانو په شان په عیش سره ژوندون وکړی شو، پر رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه خبره شاقه تېره شوه، او قسم یې یاد کړ چې تر یوې میاشتې پورې به د هیڅ یوې بي بي کره نه ورځي، مسجد ته قریب په یوې پاسنۍ کوټه (مشربه) کې دېره شو، صحابه له دغه وضعیت څخه مضطرب شول، ابو بکر رضي الله تعالی عنه او عمر رضي الله تعالی عنه سره زیاته اندېښنه د دوی د لونې بي بي عائشه رضي الله تعالی عنها او بي بي حفصه رضي الله تعالی عنها وه، چې هغوی رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلو ځانونو خپه او غمجن نه کړي، او بالوسیله خپل دین او دنیا دواړه له لاسه ور نه کړي، دوی دواړه پر هغوی دواړو په قهر شول، او په خپلو خطاوو یې وپوهولې، بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې د اُنس او د بې تکلفۍ څه خبرې او اترې وکړې، څو د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک طبیعت لږ څه خوښ او منشرح شو، بالآخره یوه میاشت وروسته دغه د تخییر آیت نازل شو، یعنې خپلو ښځو ته په صافو الفاظو سره ووایه چې: له دوو خبرو ځنې ښایي دوی یوه خبره ځان ته غوره او اختیار کړي، که دوی دنیوي عیش او عشرت غواړي؛ نو دوی ته ووایه چې: ځما او ستاسې ژوندون سره سخت او مشکل دی، نو راځئ چې په شرعي طریقه سره تاسې ته طلاق درکړم، او که د الله تعالی او د رسول الله خوښي او د آخرت د اعلی مراتبو طالبات یئ؛ نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د پاتې کېدلو له سببه به هغه دررسیږي.

له دغه ځنې به نور څه ښه شی وي چې په جنت کې له ګردو ځنې به اعلی او ارفع مقام کې له سیّد الأنام صلی الله علیه وسلم سره اوسیږي !، د دغه آیت له نزوله وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ته تشریف یووړ، او ډومبی یې د الله تعالی دغه حکم بي بي عایشې صدیقې رضي الله تعالی عنها ته واوراوه، دې د الله او د رسول الله مرضي ځان ته غوره کړه، وروسته له هغه نورو ګردو ازواجو هم داسې وکړه، او د دنیا د عیش او عشرت تصوّر یې له خپلو زړونو څخه وویست.

يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ مَن يَأۡتِ مِنكُنَّ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖ يُضَٰعَفۡ لَهَا ٱلۡعَذَابُ ضِعۡفَيۡنِۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٗا ﴿٣٠﴾

ای ښځو د نبي ! هر څوک چې راشي له تاسې په یوه کار ناکاره ښکاره (چې دغه عصیان دی له رسول الله نه)؛ نو دوچنده به کړ شي هغې ته عذاب په دوچند (د عذاب د نورو ښځو)، او دی (دوچندي عذاب) پر الله اسان.

تفسير: د لويانو غلطي هم لويه وي، كه بالفرض له تاسې څخې له كومې يوې د بد اخلاقۍ كوم فعل صادر شي؛ نو هغه سزا چې نورو ته پر هغه عمل وركوله كيږي، د هغه دوچنده تاسو ته دركوله كيږي، او دا كار الله تعالى ته اسان دى، يعنې ستاسې وجاهت او د زوجيت نسبت د الله تعالى د عقوبت څخه له سره څه ممانعت نشي كولى.

وَمَن يَقْنُتْ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَا أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ وَأَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيمًا ﴿٣١﴾

او هر څوك چې (تل) اطاعت وكړي له تاسې الله او رسول د (الله) ته، او عمل كوي د نېكيو؛ نو ور به كړو مونږ هغې ته اجر د هغې دوه كرته (دوه مثله د ثواب د نورو ښځو)، او تيار كړى دې مونږ هغې ته رزق روزي نېكه (زياته په جنّت كې).

تفسير: يعنې پر نېكۍ او اطاعت هغومره اجر چې نورو ته وررسيږي؛ د هغه دوچنده تاسې ته دررسيږي، او مزيد پر هغه يوه خاصه روزي او عزّت به هم درعطاء كيږي، شاه صاحب (رحمه الله) ليكي: «له دغې لويې درجې سره لازمه ده چې دنېكۍ ثواب دوچنده او د بدۍ عذاب هم دوچنده وي»، پخپله رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې فرمايلي دي: ﴿إِذًا لَّأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ﴾ (١٥ جزء د اسراء سورت (٨) ركوع (٧٥) آيت).

يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاءِ

اى ښځو د نبي ! نه يئ تاسې لكه يو ټولګى (په شان د ټولګي د محمدي امت) له ښځو.

تفسير: يعنې ستاسې حيثيت او مرتبه د عامو ښځو په شان نه ده، ځكه چې تاسې د الله تعالى له جانبه د سيّد المرسلين صلى الله عليه وسلم د زوجيت لپاره انتخاب او غوره شوي يئ، او تاسې يې امّهات المؤمنين ګرځولي يئ، نو كه د تقوى او طهارت ډېره ښه نمونه شئ لكه چې له تاسې څخه همدغه صفات او ستاينه متوقعه ده؛ نو د هغه وزن به د الله جل جلاله په دربار كې ډېر زيات وي، او كه بالفرض كوم بد حركت له تاسې څخه څرګند شي؛ نو په هم هغه تناسب سره د هغه سزا به هم زياته درنه وي، او ډېر زيات قبيح ګڼلى كيږي، الغرض كه د فضائلو خوا وي يا د رذائلو خوا، په دواړو كې ستاسې وضعيت له نورو عامو مؤمناتو څخه جلا او ممتاز دى.

إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٣٢﴾

نو كه چېرې پرهېزګاري كوله تاسې؛ پس مه كوئ نرمي په ويلو كې پس (كه پسته خبره تاسې وكړه)؛ نو په طمع كې به پرېوځي هغه څوك چې په زړه كې يې رنځ وي (د نفاق يا د فجور)، او ووايئ تاسې خبره ښه.

تفسير: يعنې كه تقوى او د الله جل جلاله وېره پخپلو زړونو كې لرئ؛ نو له پردې سړې سره چې خبرې اترې كوئ چې د هغه ضرورت خصوصًا أمهات المؤمنين ته على الأكثر پېښيږي؛ په پستې او زړه وړونكې لهجې سره يې مه كوئ !، بلا شبهه د ښځو په خبرو كې الله په طبيعي ډول سره يو طبيعي پوستوالى، نزاكت او لطافت ايښى دى، ليكن د پاكو مطهراتو، متقياتو ښځو شان او صفت ښايي داسې وي چې حتى المقدور د اجانبو سړيو سره د ضروري خبرو كولو په وخت كې لږ شانې په تكليف سره داسې خبرې او اترې او لهجه اختيار كړي، چې په كې لږ څه خشونت او ضبط النفس څرګند شي، او د كوم يوه بد باطن قلبي ميلان خپل طرف ته جذب او كش نه كړي، امّهات المؤمنين ته د دوى د لوړ مقام په لحاظ په هسې مواردو كې لا احتياط لازم دى، څو كوم روحاني مريض او د زړه رنځور خپل عاقبت تباه او برباد ونه ګرځوي.

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ

او قرار ونيسئ (اى ښځو !) په کورونو خپلو کې، او مه ښکاره کوئ (ښايست خپل بېګانه سړيو ته) په شان د اظهار (او ښايست) د جاهليت (د ښځو) ړومبنيو.

تفسير: يعنې پخوا له اسلامه د جاهليت په زمانه کې به ښځې بې پردې ګرځېدې، او د خپل بدن او د لباس ډول ښايست او د سينګار مظاهره او ښودنه به يې په علانيه صورت سره کوله، د دغې بد اخلاقۍ او بېحيايۍ وضعيت د مقدّس اسلام په نزد منفور او مهجور وګرځاوه شي، او ښځو ته يې صاف او پاک حکم صادر کړ چې دوی دې پخپلو کورونو کې هستوګنه وکړي !، او د جاهليت د زمانې په شانې دې د باندې نه وځي، او نه دې د خپل حسن جمال، ډول او سينګار نمايش او ښودنه کوي !، د أمهات المؤمنين فرض به په دغه معامله کې د نورو په نسبت لا زيات مؤکّد وي، لکه چې د ﴿لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاءِ﴾ په تفسير کې وليکله شوه.

تنبيه: کوم احکام چې په دغو آيتونو کې مذکور دي؛ د ګردو ښځو لپاره دي، د مطهّراتو ازواجو په حق کې کله چې د دې تأکيد او اهتمام زيات ضروري وو؛ نو ځکه په الفاظو سره دوی په خصوصيت سره مخاطبې ګرځولې شوي دي، ځما په نزد له ﴿يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ﴾ څخه تر ﴿لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاءِ﴾ پورې د دغو احکامو تمهيد وو، په تمهيد کې د دوو شقوقو ذکر وو، د بېحيايۍ د خبرې ارتکاب او د هغه انسداد هغه په ﴿فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ﴾ څخه تر ﴿تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ﴾ پورې وکړی شو، بل د الله تعالى او د رسول الله صلى الله عليه وسلم اطاعت او صالح عمل د هغه سلسله د ﴿وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ﴾ څخه تر ﴿وَأَجْرًا عَظِيمًا﴾ پورې دوام لري، خلاصه يې داسې شوه چې: د بدئ له مواقعو څخه د ځان ساتنه او د نېکئ په طرف سبقت ګردو ته ضروري دی، مګر مطهّراتو ازواجو ته له ګردو ښځو څخه زيات هغه ضروري او حتمي ده، د دوی د نېکئ او د بدئ وزن دوه چنده درولی شوی دی، له دغه تقرير سره موافق د ﴿بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ﴾ تفسير هم بې تکلّفه پوهېدلی کيږی.

وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ

او سم دروئ لمونځ (چې د بدنې عباداتو اصل دی)، او ورکوئ زکات (چې د مالي عباداتو اصل دی) او (تل) اطاعت کوئ د الله او د رسول د (الله).

تفسير: يعنې له نورو څخه زيات تاسې د دغو شيانو اهتمام وکړئ ! ځکه چې تاسې له نبي سره اقرب او د امت لپاره نمونه يئ.

إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴿٣٣﴾

بېشکه همدا خبره ده چې اراده لري الله د دې چې لرې کړي له تاسې ګناه ای اهل البيت (کورنۍ د محمد رسول الله) او چې پاک کړي تاسې (له ګناه) په پاکوالي.

تفسير: د الله تعالى اراده همدا ده چې د نبي صلى الله عليه وسلم پر کورنۍ باندې د دغو احکامو تعميل په ښه شان سره وکړي، او دوی ښه صاف او پاک وګرځوي، او سم د دوی له رتبې سره دوی ته داسې قلبي صفايي او اخلاقي پاکې عطا وفرمايي؛ چې په هغې سره دوی له نورو څخه فائقې او ممتازې وي (چې د هغې په لوري يې په ﴿وَيُطَهِّرَكُمْ﴾ کې د ﴿تَطْهِيرًا﴾ په تزييد سره اشاره فرمايلې ده)، دغه تطهير او د رجس اذهاب هم هغسې نه دی لکه چې د وُضوء په آيت کې ﴿وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ﴾ (د المائده (٢) رکوع، (٦) آيت) يا د «بدر» په قصه کې په ﴿لِّيُطَهِّرَكُم بِهِ وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ الشَّيْطَانِ﴾ (د الأنفال (٢) رکوع (١١) آيت) دا ترې مراد شوی دی، بلکه دلته له تطهير څخه د تهذيب النفس،

تصفية القلب، او تزكية الباطن هغه اعلى مرتبه مراد ده، چې اكملو اولياء الله ته حاصله وي، او د هغې له حصول څخه وروسته اګر كه دوی د انبياء الله په شان معصوم نه ګرځي، هو ! محفوظ ويلی كيږي لكه چې د ﴿يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ﴾ الآية ـ فرمايل او د (أراد الله) نه فرمايل پخپله د دغې خبرې دليل دی چې د أهل البيت لپاره عصمت نه دی ثابت.

تنبيه: په «نظم القرآن» كې تدبّر كوونكيو ته د يوې لمحې لپاره هم په دغه خبره كې هيڅ شك او شبهه نشي واقع كېدی؛ چې دلته د أهل البيت په مدلول كې يقيناً مطهّرات ازواج داخل دي، ځكه چې د دغه آيت څخه ړومبی او وروستی په ټوله ركوع كې ډېر خطابات له هم هغو سره شوي دي، او د «بيوت» نسبت هم پخوا په ﴿وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ﴾ او وروسته په ﴿وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ﴾ كې د همدوی په طرف كړی شوی دی، علاوه پر دې په قرآن كې عمومًا دغه لفظ په همدغه سياق مستعمل شوی دی، د ابراهيم عليه السلام ښځې بي بي سارې رضي الله تعالى عنها ته د خطاب كولو په وخت پرښتې ويلي وو: ﴿اَتَعْجَبِيْنَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ رَحْمَتُ اللّٰهِ وَبَرَكٰتُهٗ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ﴾ (د هود سورت (٧) ركوع، (٧٣) آيت)، په هر حال په «أهل البيت» كې دلته د ازواجو دخول يقيني دی، بلكه د آيت خطاب ړومبی له هغو سره دی.

وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ وَالْحِكْمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ لَطِيْفًا خَبِيْرًا ﴿٣٤﴾

او يادوئ تاسې هغه چې لوستی كيږي په كورونو ستاسې كې له آيتونو د الله (چې قرآن دی) او له حكمته (حديث رسول)، بېشكه چې الله دی ښه مهربان او ښه خبردار.

تفسير: يعنې په قرآن او سنت كې كومې خبرې چې د الله تعالى پر احكامو او د پوهې پر مطالبو شاملې دي؛ هغه زده او يادې كړئ ! او نورو ته يې هم ورښيئ ! او د الله تعالى د عظيم احسان شكر اداء كړئ ! چې تاسو ته يې په داسې متبركو كورونو كې ځای در كړی دی، چې د حكمتونو خزانه او د هداياتو سرچينه ده، د الله تعالى په آيتونو كې ډېر دقيق اسرار او د قدرت د علاماتو زيات رموزات دي، هغه الله جل جلاله پر دې ښه پوهيږي چې كوم يو سړی د دې امانت د پورته كولو اهل دی؟ هم هغه په خپل لطف او مهربانی سره محمد صلى الله عليه وسلم په وحي او تاسې يې د ده په زوجيت سره غوره كړي يئ، ځكه چې الله تعالى د هر چا د احوالو او استعدادو څخه عليم او خبير دی، او هيڅ يو كار بې له حكمته او تدبيره نه كوي.

اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِيْنَ وَالصّٰدِقٰتِ وَالصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰبِرٰتِ

بېشكه چې مسلمان سړي او مسلمانانې ښځې، او مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې، او اطاعت كوونكي سړي او اطاعت كوونكې ښځې، او رښتين سړي او رښتينې ښځې، او صبر كوونكي سړي او صبر كوونكې ښځې.

تفسير: يعنې تكاليف پر ځان اخيستونكي، سختي پر ځان ګالونكي (برداشت كوونكي)، د شريعت پر احكامو قائم او ټينګ پاتې كيدونكي.

وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ

او ويريدونكي عاجزي كوونكي سړي او ويريدونكې عاجزي كوونكې ښځې.

تفسير: يعنې د تواضع او د عاجزی او د انكسار غوره كوونكي يا په خشوع سره د لمانځه اداء كوونكي.

وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴿٣٥﴾

او خيرات كوونكي سړي او خيرات كوونكې ښځې، او روژه نيوونكي سړي او روژه نيوونكې ښځې، او حفاظت كوونكي سړي ځاى د شهوت خپل (له ښځو) او ساتونكې ښځې (ځاى د شهوت خپل له سړيو)، او ذكر كوونكي سړي الله لره (ذكر) ډېر او ذكر كوونكې ښځې (الله لره په ذكر ډېر)؛ تيار كړي دي الله دغو (لسو واړو جامع الطاعاتو سړيو او ښځو ته) مغفرت او اجر ډېر لوى.

تفسير: ځينو مطهّراتو ازواجو ويلي وه چې په قرآن شريف كې ډېر ځايونه د نارينه وو ذكر شته، مګر د ښځو ذكر هيڅېرې نشته، او ځينو نورو صالحانو ښځو ته داسې خيال پيدا شو چې په سابقه وو آيتونو كې د أزواج النبي صلى الله عليه وسلم تذكار وشو، خو د نورو ښځو په نسبت هيڅ كومه تذكره ونشوه؛ نو په دغه تناسب دغه آيت نازل شو، څو ټولې سره متسلّي شي، چې كه نارينه وي يا ښځه؛ د هيڅا محنت او زحمت د الله تعالى په نزد نه ضايع كيږي، هم هغسې چې نارينه وو ته د روحاني او اخلاقي ترقي د حاصلولو ذرايع او وسايل شته؛ ښځو ته هم دغه ميدان خلاص دى، دغه يې د اناثيه وو طبقې د اطمينان او تسلي لپاره وفرمايل، كه نه هر هغه احكام چې په قرآن كې د نارينه وو لپاره فرمايلي شوي دي؛ هم هغه عموماً پر ښځو عائديږي، او د بېل نوم اخيستلو لپاره هيڅ ضرورت نه دى پاتې، هو ! په دوى پورې نور خصوصي احكام بېل بيان كړى شوي دي.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا ﴿٣٦﴾

او نه دي (روا) هيڅ مؤمن سړي او نه هيڅ مؤمنې ښځې ته كله چې حكم وكړي الله او رسول د (الله) په يو امر كار كې؛ چې وي دوى ته اختيار له امره كاره خپله (په خلاف د امر د الله او د رسول) هيڅ، او هر څوك چې اطاعت نه كوي د الله او د رسول د (الله)؛ پس په تحقيق ګمراه شو په ګمراهۍ ښكاره سره.

تفسير: بي بي زينب رضي الله تعالى عنها بنت أميمه بنت عبد المطلب د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ترور لور چې د قريشو له ډېرې لويې كورنۍ څخه وه، رسول الله صلى الله عليه وسلم وغوښت چې د هغې نكاح «زيد بن حارثه رضي الله تعالى عنه» سره وترې، دغه زيد هم اصلاً د عربانو له شرفاوو څخه وو، خو كوم ظالم په وړوكوالي دى تښتولى او د مريي په عنوان يې د معظمې مكې په بازار كې خرڅ كړى وو، بيا دغه زيد رضي الله تعالى عنه د بي بي خديجه الكبرى رضي الله تعالى عنها له طرفه په بيع واخيست شو، چې څو موده وروسته بي بي صاحبې دغه خپل مريي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وبانبه، كله چې زيد رضي الله تعالى عنه لوى او هوښيار شو، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ملګرتوب د شام په يوه تجارتي سفر كې تلو، څه وخت چې زيد رضي الله تعالى عنه د خپل كور او كلي له څنګه تېرېده، دلته يې د خپلو أقاربو او خپلوانو پوښتنه وكړه، څو د زيد رضي الله تعالى عنه پلار، تره او ورور د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شول، او داسې غوښتنه يې تري وكړه چې: «د زيد معاوضه له مونږ څخې واخلئ ! او پر مونږ يې وسپارئ !»، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې: «كه زيد پخپلې رضا او خوښې له تاسې سره ځي؛ ځما له خوا هيڅ ممانعت نشته»، كله چې هغوى له زيد څخه دغه پوښتنه وكړه؛ زيد وويل چې: «زه له

محمد صلى الله عليه وسلم څخه بل هيڅهرې نه ځم، ځکه چې دوی له ما سره ډېر ښه سلوک کوي، او له مور او پلار څخه مې ښه ساتي»، په دغه تقريب رسول الله صلى الله عليه وسلم دی آزاد کړ، او خپل ځوی يې وباله، لکه چې خلقو د هغې زمانې د رواج سره سم ده ته «زيد بن محمد» ويل، تر هغه پورې چې دغه آيت نازل شو ﴿اُدْعُوهُمْ لِاٰبَآئِهِمْ هُوَ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ﴾؛ دلته به د زيد بن محمد صلى الله عليه وسلم په ځای خلقو زيد بن حارثه باله، کله چې سم د قرآن له حکمه سره د ده له نامه څخه د دغه عظيم نسبت شرف بېل کړی شوی وو، ښايي د دغه د تلافي لپاره د ټولو اصحابو له مجمع څخه يواځې همده ته دغه شرف وروبخښلی شو چې نوم يې تصريحًا په قرآنکريم کې وارد شو، لکه چې وروسته راځي: ﴿فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا﴾.

په هر حال کله چې د بي بي زينب رضي الله تعالى عنها د کورنۍ حيثيت ډېر لوړ (اوچت) وو، او زيد رضي الله تعالى عنه بن حارثه ظاهرًا د مريېتوب په داغ داغلی شوی وو؛ نو ځکه نه پخپله بي بي زينبه رضي الله تعالى عنها او نه د دې ورور په دغه خوښ او رضا وو، چې د دې نکاح له زيد سره وترله شي، ليکن د الله تعالى او د رسول الله صلى الله عليه وسلم منظور داسې وو چې داسې موهم تفريقات او امتيازات د دې د نکاح په لاره کې نه ښايي چې حائل شي، نو ځکه رسول الله مبارک پر بي بي زينب رضي الله تعالى عنها او د دې پر ورور زور وغورځاوه څو هغوی پر دغه نکاح راضي شول، په دغه وخت کې دا آيت نازل شو، او دغه خلقو خوښه او مرضي د الله جل جلاله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم تر خوښې او مرضۍ جار او قربان کړله، او د بي بي زينب رضي الله تعالى عنها نکاح له زيد بن حارثه رضي الله تعالى عنه سره وترله شوه.

وَاِذْ تَقُوْلُ لِلَّذِیْۤ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاَنْعَمْتَ عَلَیْهِ اَمْسِكْ عَلَیْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللّٰهَ وَتُخْفِیْ فِیْ نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِیْهِ وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ وَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشٰىهُ ؕ فَلَمَّا قَضٰى زَیْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا لِكَیْ لَا یَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِیْنَ حَرَجٌ فِیْۤ اَزْوَاجِ اَدْعِیَآىِٕهِمْ اِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ﴿۳۷﴾

او (ياد کړه ای محمده !) کله چې وويل تا هغه (زيد) ته چې انعام کړی وو الله پر هغه (په اسلام سره)، او انعام کړی وو تا پر هغه (په آزادولو سره) چې وساته ته له ځان سره ښځه خپله (زينب بنت جحش) او وويرېږه له الله (په طلاق) حال دا چې پټوله (ای محمده !) تا په زړه کې هغه خبره چې الله ښکاره کوونکی وو د هغې (چې زوجة النبي کېدل د زينب دي)، او ويرېدې ته له خلقو، او الله ډېر لايق دی د دې چې وويرېږې ته له ده نه، کله چې تمام کړ زيد له دغې (زينب) څخه خپل غرض (او طلاقه يې کړه او عدّت يې تېر شو)؛ نو په نکاح درکړه مونږ تاته دغه (زينب) لپاره د دې چې نه وي پر مؤمنانو سختي (او وبال) په (نکاح کولو د) ښځو د ادعياوو د دوی کله چې تمام کړي (دغه ادعياء) له دوی نه غرض (خپل چې طلاقې يې کړي، او عدّت يې تېر شي)، او دی امر حکم د الله کېدونکی خامخا.

تفسير: يعنې زيد رضي الله تعالى عنه بي بي زينب رضي الله تعالى عنها ته طلاق ورکړ، او د دې عدّت هم تېر شو، او اوس زيد رضي الله تعالى عنه له بي بي زينبې رضي الله تعالى عنها سره هيڅ غرض او تعلّق نه لري، کله چې بي بي زينب رضي الله تعالى عنها د زيد رضي الله تعالى په نکاح کې ورغله؛ نو زيد بن حارثه رضي الله تعالى عنه د دغې مېرمنې په نظر کې خوار او حقير ښکارېده، د دې طبيعت او مزاج به له هغه سره نه لګېده، او پخپلو منځو کې يې له همدې سببه موافقت نه کاوه، همېشه د دغو دواړو په منځ کې به جنګ او جګړه نښتې وه، نو زيد رضي الله تعالى عنه به د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حضور کې حاضر ېده، او خپل دغه شکايت به يې وروړاندې کاوه، او همداسې به يې ويل چې: زه دغه خپله ښځه خوښې کوم، ځکه چې ځما ګذران ورسره نه کيږي، خو رسول الله صلى الله عليه

وسلم به تل دی منع کاوه، او د صبر او استقامت توصیې به یې ورته کولې، او ورته به یې ویل چې: هغې ځما له خاطره او د الله او د رسول په حکم د خپلې خوښې خلاف له تاسره خپله نکاح وترله، نو که ته یې اوس خوشې کړې؛ نو دغه طلاق به هم هغې او هم د هغې نورو عزیزانو او خپلوانو ته د سپکوالي په منزله وي، نو ځکه له الله څخه وویرېره ! او په وړوکو وړوکو خبرو دغسې خبرې ته اقدام مه کوه، او څو دې له وسه کیږي؛ ځکذران کوه ! او شپې او ورځې دې ورسره په ښه شان تېروه ! کله چې په هیڅ ډول د دوی دواړو په منځ کې موافقت رانغی، نو ممکن دي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زړه کې به دغې خبرې خطور کړی وي، که زید لا علاجه شي او مجبورًا خپله ښځه خوشې کړي؛ نو د بي بي زینبې تسلي او اطمینان بې له دې نه په بل شي نه کیږي څو چې زه خپله نکاح ورسره ونه ترم، لیکن د جاهلانو او منافقانو له بد ویلو څخه په اندېښنه کې وو، چې دوی به داسې وایي چې: «محمد د خپل ځوی ښځه په نکاح واخیسته»، حال دا چې دغه خبره دوی ته لا له پخوا څخه معلومه وه، چې د الله جل جلاله په نزد متبنّي په هیڅ یوه خبره کې د ځوی حکم نه لري.

له بل جانبه د الله تعالی اراده داسې وه چې دغه د جهالت خیال او مفکوره هم د خپل رسول په وسیله په عملي طور سره لرې او ورکه کړي، څو مسلمانانو ته په مستقبل کې له داسې مسائلو ځنې هیڅ قسم تکلیف او زحمت ورپېښ نه شي، او د هیڅ قسم توحّش او استنکاف مورد ورپاتې نه وي، نو الله تعالی خپل رسول ته اطلاع ورکړه چې: «زه بي بي زینب ستا په نکاح کې درکوونکی یم»، ولې یې درکوم؟ دغه پخپله د پاک قرآن دغه الفاظ ﴿لِكَيْلَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِي أَزْوَاجِ أَدْعِيَائِهِمْ﴾ په صاف او ښکاره ډول سره ظاهروي، یعنې غرض له دغې نکاح څخه دا دی چې د نورو له زړه څخه دغه د جاهلیت خیال بیخي محو او معدوم شي، او وروسته له دې نه بل هیڅ قسم تنګسه او ممانعت په دغه معامله کې پاتې نشي.

پاتې شوې هغه چتې او بې موردې قصې او خبرې چې حاطب اللّیل مفسّرین او مؤرخین او بالخاصه اروپایي مستشرقینو په دغه مقام کې لیکلي دي، او ځمونږ ځینې متجدد ځلمیان هم هغه د خپلې پوهې د نمونې پشان بیانوي؛ د هغوی په نسبت حافظ ابن حجر العسقلاني (رحمه الله) داسې لیکي: «لاینبغي التشاغل بها» یعنې د هغو ذکر کول د وخت ضایعول دي، او ابن کثیر (رحمه الله) لیکي: «أحببنا أن نضرب عنها صفحًا لعدم صحتها فلا نوردها»، یعنې دغه روایتونه مو پرېښودل، ځکه چې اصلاً ثبوت او صحت نلري.

مَا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيمَا فَرَضَ اللَّهُ لَهُ ۖ سُنَّةَ اللَّهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۚ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ قَدَرًا
مَقْدُورًا ﴿٣٨﴾ الَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَالَاتِ اللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُ وَلَا يَخْشَوْنَ أَحَدًا إِلَّا اللَّهَ ۗ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ حَسِيبًا ﴿٣٩﴾

نشته پر نبي هیڅ قدر سختي (او وبال) په هغه کار (د نکاح د زینبې) کې چې مقرره کړې وه الله ده ته، طریقه مقرره کړې ده الله په هغو (انبیاوو) چې تېر شوي دي ړومبي له دې نه، او دی امر حکم د الله یو حکم مقرر کړی شوی. هغه (انبیاء) چې رسوي پیغامونه د الله، او ویریږي له دغه (الله)، او نه ویریږي د بل هیچا مګر یواځې له الله، او کافي دی الله ښه حساب کوونکی (د بندګانو).

تفسیر: یعنې د الله تعالی حکم قاطع او نافذ دی، کومه خبره چې د ده له جانبه صادره شوي وي؛ هغه هرومرو کیدونکې ده، بیا نبي صلی الله علیه وسلم ته په داسې کولو کې هیڅ مضایقه نشته، چې په شریعت کې روا شوې ده، انبیاء او رسولان د الله تعالی په پیغام رسولو کې له ماسوا الله د بل هیچا څخه نه دي ویریدلي، کله چې تا هم خپل د دغه پیغام په رسولو کې تر نن ورځې پورې د هیڅ شي پروا نه ده کړې، او نه د چا د ویلو او اورولو له تصوره لږ څه متأثر شوی یې، نو بیا د دې نکاح په معامله کې به ولې څه ممانعت واقع شي؟، داود علیه السلام یو سل ښځې درلودې (لرلې)، همداسې سُلیمان علیه السلام هم د ازدواج په کثرت کې مشهور دی، سفهاء او ناپوهان هغه الزام چې پر تاسې اړوي؛ د سابقینو

انبياوو په سوانح کې له دې نه زيات دهغه اشباه او نظائر شته، لهذا تاسې ته نه ښايي چې دغو سفاهتي او جهالتي تنقيداتو ته وګورئ ! وروسته دغه راښيي چې زيد بن حارثه رضي الله تعالى عنه چې هغه تاسې د خپل ځوی په ځای بللی وو؛ ستاسې واقعي ځوی خو نه دی ګرځېدلی چې د هغه د مطلقې ښځې سره به تاسې نکاح نشئ ترلی، او يو زيد رضي الله تعالى عنه څه بلکه تاسې له نورو نارينه وو ځنې هـم د هيڅ يـو سړي پلار نه يئ، ځکه چې ستاسې له اولادې ځنې خو يا هغه هلکان وو چې په وړوکوالي کې مړه شول، او ځينې د دغه آيت د نزول په وخت کې بيخي نه وو پيدا شوي، يا خو جونې وې، چې د هغوی څخه د سيدتنا فاطمة الزهراء رضي الله تعالى عنها اولاده په دنيا کې منتشره او خوره شوه.

مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ

نه دی محمد صلى الله عليه وسلم (حقيقي) پلار د هيڅ يو تن له سړيو ستاسې، وليکن رسول د الله دی.

تفسير: يعنې هيڅوک د ده ځوی مه ګڼئ ! محمد صلى الله عليه وسلم د پاک الله رسول دی.

وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٤٠﴾

او مهر (او آخرنی) د (ټولو) انبياوو دی (چې پس له دې نه بل نبي نشته)، او دی الله پر هر څيز ښه عالم.

تفسير: د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم په تشريف راوړلو سره د انبياوو پر سلسله د اختتام مهر ولګېد، اوس به هيڅا ته نبوّت نه ورکاوه کيږي، پس هر چا ته چې نبوّت رسېدلی دی، نو له همدې جهته د ده د نبوّت دوره له ګردو انبياوو څخه وروسته ايښې شوې ده چې د قيامت تر قيام پورې به اوږدوالی لري، عيسي المسيح عليه السلام به هم په آخره کې د محمد صلى الله عليه وسلم د يوه امّتي په شان راځي، او د عيسوي شريعت عمل په هغه وخت کې جاري نه وي، لکه چې نن ورځ هم د ګردو انبياوو اديان پخپلو ځايونو کې موجود شته، مګر په ټوله دنيا کې يواځې محمدي نبوّت جاري او ساري دی، په حديث کې راغلي دي: «که نن موسى عليه السلام د ځمکې په سر ژوندی وی؛ نو هغه ته به هم ماسوا ځما له متابعته بله چاره نه وه».

تنبيه: د نبوّت د ختم په متعلق له قرآن، حديث، د امت اجماع څخه په سلهاوو دلائل ځينو معاصرو عالمانو راټول کړي دي، او ترې مستقل کتابونه يې ليکلي دي، چې د هغو له کتلو څخه لږ څه تردّد او اشتباه نه پاتې کيږي چې د دغې عقيدې منکر قطعًا کافر او له اسلامي ملّت څخه خارج دی، «او دی الله پر هر څيز ښه عالم» يعنې همدغه الله تعالى پر دغه باندې هم عليم او خبير دی چې د رسالت يا د نبوّت ختم په کوم ځای کې کېښود شي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ﴿٤١﴾ وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٤٢﴾

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) يادوئ الله په يادولو ډېرو سره. او تسبيح وايئ (لمونځ کوئ) ده ته په صبا او په ښکا کې.

تفسير: يعنې الله تعالى دومره لوی احسان فرمايلی دی چې داسې عظيم الشأن رسول او د انبياوو سردار محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم يې ستاسې د هدايت لپاره لېږلی دی، نو پر دغه د ده شکر اداء کړئ ! او له سره حقيقي منعم مه هېروئ ! په ناستې او ولاړې، په تللو او راتللو، په شپه او ورځ، په سبا او ښکا په ګردو اوقاتو او حالاتو او محلاتو کې د الله تعالى په ذکر او فکر کې لګيا اوسئ !.

هُوَ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ وَمَلَائِكَتُهُ لِيُخْرِجَكُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا ﴿٤٣﴾

دی هغه (الله) دی چې رحمت (نازلوي) پر تاسې او پرښتې د دغه (الله هم مغفرت درته غواړي) لپاره د دې چې وباسي (الله) تاسې له تیارو (د کفره) رڼا ته (د اسلام)، او دی (الله) پر مؤمنانو ډېر رحم کوونکی.

تفسیر: یعنې د الله تعالی د زیات ذکر او په کثرت سره د یادولو نتیجه داسې کیږي چې الله تعالی خپل رحمت پر تاسې نازلوي، همدغه رحمت او برکت دی چې ستاسې لاس یې نیولی دی، او د جهالت او ضلالت له تیارو څخه یې ایستلي یئ، او د علم، پوهې او تقوی د رڼا په طرف یې لاره درښوولې او بیولي یې یئ، که د الله تعالی خاصه مهرباني پر ایمان لرونکیو نه وی؛ نو د ایمان دولت به دوی ته له کومه ځایه ورعطاء کېده؟ او څرنګه به هغه له دوی سره محفوظ پاتې کېده؟ د الله تعالی په لطف او مهربانی مؤمنین د رُشد او هدایت، ایمان او احسان په طریقو کې ترقي کوي، دغه خو د دوی دنیوي حال دی، د دوی د اخروي اعزازو او اکرامو ذکر وروسته راځي.

تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلَامٌ ۚ وَأَعَدَّ لَهُمْ أَجْرًا كَرِيمًا ﴿٤٤﴾

(د الله) پېشکش دوی ته په هغې ورځې چې ملاقات وکړي دوی له دغه (الله) سره؛ سلام دی، او تیار کړی دی (الله) دوی ته اجر ډېر لوی.

تفسیر: یعنې الله تعالی به پر دوی سلام لیږي، او پرښتې به هم پرې سلام اچوي، او بیا ورنژدې کیږي، مؤمنین به هم پخپلو منځونو کې د سلامونو همداسې مبادله او تعارف کوي، لکه چې په دنیا کې یې سره کوي.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿٤٥﴾

ای نبي ! بېشکه مونږ لېږلی یې ته شاهد (په هغه چا چې ورلېږلی شوی یې)، او زېری ورکوونکی (په نعیم سره مؤمنانو ته)، او ویروونکی (له جحیم څخه کافرانو ته).

تفسیر: یعنې محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسې ته د الله تعالی توحید در زده کوي، او تاسو ګردو ته سمه صافه لاره درښیي، هر هغه شی چې وایي؛ په زړه او په عمل سره پرې شاهدي ورکوي، او په محشر کې به هم د امت په نسبت شاهدي لولي، چې د الله تعالی پیغام کوم یوه سړي تر کومې اندازې پورې منلی دی؟ یعنې غاړه ایښودونکي او فرمان منونکي ته په ثواب سره زېری ورکوي، غاړه غړوونکي او نافرمانان په عذاب سره ویروي.

وَدَاعِيًا إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُنِيرًا ﴿٤٦﴾

او بلونکی (د خلقو عبادت د) الله ته په اذن حکم د دې (الله) او ډیوه روښانوونکې.

تفسیر: پخوا یې فرمایلي وو چې د الله تعالی رحمت مؤمنین له تیارو څخه وباسي، او رڼا ته یې راولي؛ دلته دغه راښیي چې هغه رڼا د دغې ډیوې څخه منتشره شوې ده، ښایي د ډیوې لفظ په دغه ځای کې په هغې معنی سره وي چې د «نوح» په سورت کې داسې فرمایلي شوي دي: ﴿وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا﴾ «الله تعالی سپوږمی رڼا او لمر یې ډیوه ګرځولې ده»، یعنې تاسې د نبوّت او د هدایت هغه لمر یې چې ستاسې د طلوع څخه وروسته بلې کومې رڼا ته هیڅ ضرورت نه دی پاتې، او نورې ګردې رڼاګانې په دغه اعظم نور کې محو او مدغم شوې دي.

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ بِأَنَّ لَهُمْ مِنَ اللَّهِ فَضْلًا كَبِيرًا ﴿٤٧﴾

او زېرى وكړه په مؤمنانو په دې چې بېشكه شته دوى ته له (طرفه د) الله فضل ډېر لوى (جنّت).

وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ وَدَعْ أَذَاهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ﴿٤٨﴾

او مه منه (حكم) د كافرانو او منافقانو، او پرېږده ضرر د دوى (په انتقام اخيستلو كې) او توكل وكړه پر الله، او كافي دى الله وكيل (كار جوړوونكى).

تفسير: يعنې كله چې الله تعالى تاسې ته داسې كمالات او داسې غوره جماعت عنايت فرمايلى دى؛ نو تاسې د دعوت او اصلاح او تبليغ فرائض په پوره قوت سره اداء كوئ ! او پر هغه حكم چې الله تعالى تاسې ته درکړى؛ د هغه په ويلو او كولو كې د هيڅ يوه كافر او منافق او د نورو پروا مه كوئ !.

﴿وَدَعْ أَذَاهُمْ﴾ الآية ـ يعنې كه دغه اشقياء تاسې په ژبه او عمل وځوروي؛ نو تاسې د دوى هيڅ پروا مه كوئ ! او پر پاك الله توكل او اعتماد وكړئ ! هغه به په خپل قدرت او رحمت سره ګرد كارونه جوړوي، د مجرمينو لارښوونه يا د دوى په سزا رسونه دغه ټول د همده په لاس كې دي، تاسې ته هيڅ ضرورت نه دى پاتې چې په دغه فكر او انديښنه كې خپل ځان وكړوئ !، د دوى مطلب خو همداسې دى څو تاسې د دوى له طعنو څخه وويرېږئ، او د خپل دعوت او تبليغ له فريضې څخه مخ واړوئ، كه په فرض المحال سره تاسې همداسې وكړئ؛ نوګواكې د دوى مطلب مو پوره كړ (العياذ بالله).

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا ۖ فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿٤٩﴾

اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى (يعنې اى مؤمنانو !) كله چې په نكاح واخلئ مؤمنې ښځې بيا طلاقې كړئ تاسو دوى پخوا له دې نه چې مس (صحيحه خلوت) وكړئ له دوى سره؛ پس نشته تاسې ته پر دغو مطلقاتو هيڅ شمېر (د ورځو) چې شمېرئ به تاسو هغه، نو ورکړئ دوى ته څه فائده او خوشې كړئ دوى په خوشې كولو ښو سره.

تفسير: يعنې هغه سړي چې خپلې ښځې ته پخوا له جماع يا صحيحه خلوت څخه طلاق وركړي، كه د دې لپاره يې مهر ټاكلى وي؛ نو نيمايي مهر يې پرې اوړي، كه نه لږ څه فائده دې وورسوي !، يعنې سم له عُرف او خپل حيثيت سره يوه جوړه جامه دې وركړي، او په ښه صورت سره دې خوشې او مرخصه كړي، او كه ښځه په دغه صورت وغواړي چې له بل چا سره خپله نكاح وترې؛ نو عدّت پرې نشته، دغه مسئله يې دلته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مطهّراتو ازواجو په ذكر كې بيان وفرمايله، چې د هغه سلسله له لرې ځاى څخه دوام لري، په منځ كې څو آيتونه د ضمني مناسباتو له سببه راغلل، له دې ځايه بيا د سابق مضمون په طرف عود وكړى شو، په رواياتو كې راغلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له يوې ښځې سره نكاح وترله، كله چې هغې ته ورنژدې كېده؛ نو دغې ښځې وويل چې: «زه له تا څخه الله تعالى ته پناه نيسم»، رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: «تا لوى پنا ځاى ځان ته غوره كړى»، نو په دغه نسبت دا آيت نازل شو، او خطاب يې ايمان لرونكو ته وفرمايه، څو معلوم شي چې دغه حكم په رسول الله صلى الله عليه وسلم پورې څه خصوصيت نه لري، بلكه پر ټولو مسلمانانو همدغه حكم شته، سم له دغه سره رسول الله مبارك صلى الله عليه وسلم هغې ښځې ته جوړه وركړه، او مرخصه يې كړه، مګر دغې ښځې په ټول عمر كې پر خپل محروميت ژړل.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَحۡلَلۡنَا لَكَ أَزۡوَٰجَكَ ٱلَّٰتِيٓ ءَاتَيۡتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتۡ يَمِينُكَ مِمَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَيۡكَ وَبَنَٰتِ عَمِّكَ وَبَنَٰتِ عَمَّٰتِكَ وَبَنَٰتِ خَالِكَ وَبَنَٰتِ خَٰلَٰتِكَ ٱلَّٰتِي هَاجَرۡنَ مَعَكَ ۖ وَٱمۡرَأَةً مُّؤۡمِنَةً إِن وَهَبَتۡ نَفۡسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنۡ أَرَادَ ٱلنَّبِيُّ أَن يَسۡتَنكِحَهَا ۗ خَالِصَةً لَّكَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ۖ قَدۡ عَلِمۡنَا مَا فَرَضۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ وَمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ لِكَيۡلَا يَكُونَ عَلَيۡكَ حَرَجٞ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٥٠

ای نبي ! بېشکه مونږ حلالې کړې دي تاته ښځې ستا، هغه ښځې چې ورکړي دي تا دوی ته مهرونه د دوی، او هغه ښځې چې مالک شوی دی (د هغو) ښي لاس ستا له هغو (وینځو) چې راکړځولي دي الله په تا (له کفّارو)، او لونې د عم (تره) ستا، او لونې د عمې (ترور) ستا، او لونې د ماما ستا، او لونې د خاله (تورۍ ـ د مور خور) ستا، هغه ښځې چې هجرت يې کړی دی له تا سره، او هغه ښځه مؤمنه چې وبښي نفس خپل نبي ته (بې له مهره) که اراده وکړي نبي د دې چې په نکاح واخلي (بې مهره) دغه (ښځه)، خالصه (جایزه ده) تاته غیر له نورو مؤمنانو، په تحقیق معلوم دي مونږ ته هغه چې مقرر کړي دي مونږ پر دوی باندې په (حق د) ښځو د دوی کې او په (حق د) هغو وینځو کې چې مالکان دي (د هغو) ښي لاسونه د دوی، لپاره د دې چې نه وي پر تا باندې هیڅ حرج سختي، او دی الله ښه بخښونکی (د خطیّاتو) ډېر رحم کوونکی.

تفسیر: یعنې له هغو وینځو چې په غنیمت او نورو کې ستاسې په لاس درشي، او ستا هغه ښځې چې د دوی مهر دې ورکړی دی، یعنې چې اوس ستاسې په نکاح کې دي، که قریشي وي، یا له مهاجراتو څخه وي یا نه وي،؛ ټولې تاسې ته حلالې دي، له دوی ځنې هیڅ یوه د دې وړ او قابله نه ده چې خوښې کړی شي، د تره، د ترور، د ماما، او د تورۍ لونې یعنې له قریشیانو ځنې چې د مور یا د پلار له جانبه د تا قرابت داری وي؛ د هجرت په شرط حلالې دي، او تاسې له هغوی سره نکاح کولی شئ، او هره ښځه چې خپل ځان نبي ته وبخښي، یعنې بې له مهره وغواړي چې په نکاح کې یې راشي؛ هغه هم حلاله ده، که تاسې داسې په نکاح راوړل خوښوئ ! دغه اجازت مخصوص رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دی، اګر که دوی پر دغه اجازت عمل نه دی کړی (کما في الفتح)، ښایي له ﴿اَرَادَالنَّبِيُّ﴾ څخه مرجوحه اباحت ګڼلی شوی وي، په هر حال نورو مسلمانانو ته هغه حکم دی چې معلوم شوی دی: ﴿اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ﴾ الآیة ـ (النساء (۴) رکوع)، یعنې بې له مهره نکاح نه کیږي، که د عقد په وخت کې د هغه ذکر شوی وي، او که وروسته له هغه ټاکلی شوی وي؛ یا هیڅ نه وي ټاکلی شوی؛ نو په دغه صورت کې مهر المثل یعنې هغه مهر چې د دې اقاربو او خپلوانو کې معمول او مروج وي؛ واجبیږي، له رسول الله صلی الله علیه وسلم ځنې الله تعالی دغه مهر قید لرې کړی دی، په خلاف د مؤمنینو چې هغوی ته نه د دې خبرې اجازه ده، چې له ځلورو ښځو څخه زیاتې ښځې واخلي، او نه دا چې کومه ښځه بې له مهره په نکاح راولي.

تُرۡجِي مَن تَشَآءُ مِنۡهُنَّ وَتُـٔۡوِيٓ إِلَيۡكَ مَن تَشَآءُ ۖ وَمَنِ ٱبۡتَغَيۡتَ مِمَّنۡ عَزَلۡتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكَ ۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن تَقَرَّ أَعۡيُنُهُنَّ وَلَا يَحۡزَنَّ وَيَرۡضَيۡنَ بِمَآ ءَاتَيۡتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمۡ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمٗا ٥١

بېرته کوې ته هر هغه ښځه چې غواړې ته له دغو ښځو خپلو، او رانژدې کوې ځان ته هره هغه ښځه (خپله) چې غواړې ته (له دغو ښځو خپلو)، او هغه چې بیا یې وغواړې له هغو (ښځو

خپلو) چې لرې کړې دي؛ پس نشته هيڅ ګناه پر تا باندې، دغه (تفويض د واک ـ اختيار د ښځو خپلو) تاته ډېر نژدې دی چې يخې او روښانه شي سترګې د دوی (او خوشاله شي)، او نه به غمجنې کيږي، او راضي شي دوی په هغه شي چې ورکړی تا دوی ټولو ته، او الله ته معلوم دي هر هغه څه چې په زړونو ستاسې کې دي (له رغبت او کراهيت د ښځو)، او دی الله ښه عالم ډېر تحمّل والا.

تفسير: يعنې د «واهبة النفس» په متعلق اختيار لرې چې قبلوې يې او که يې نه قبلوې، او د موجوده وو ښځو څخه ته مختار يې چې کومه يې ساتې او کومې يوې ته يې طلاق ورکوې، او هم د هغو ښځو په نسبت چې پاتې شي؛ پر تاسې نوبت نه دی واجب چې خامخا يوه يوه شپه له هرې يوې سره به اوسېږې، د هرې يوې په نسبت چې زړه مو غواړي؛ وړاندې وروسته هم کولی شې، او له هرې يوې څخه مو چې ځان بېل کړی وي؛ بيا د هغې د بېرته اخيستلو اختيار هم لرې، سره له دې چې دغه حقوق او اختيارات ده ته ورکړی شوي وو؛ مګر ده په خپل ټول عمر کې له دغو اختياراتو څخه کار وانخيست، په معاملاتو کې يې دومره زيات له عدل او مساوات څخه کار اخيست او د هغه مراعات به يې کاوه؛ چې ډېر لوی محتاط سړی به هم هغسې نشي کولی، خو سره له دې نه که د ده قلبي ميلان د چا په لوري بې اختياره کېده؛ نو داسې به يې فرمايل: «اللهم هذا قِسمي فيما أملك، فلا تلُمني فيما تملك و لا أملك»، «ای الله ! دغه ځما تقسيم دی په هغو شيانو کې چې ځما په واک او اختيار کې دي، او پر هغه څيز کې چې يواځې ستا په اختيار کې دی، او ځما په اختيار کې نه دی؛ مه مې ملامتوه !»، ښايي په ﴿وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمْ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمًا﴾ کې د همدغه په لوري اشاره وي.

لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَاءُ مِنْ بَعْدُ وَلَا أَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ أَزْوَاجٍ وَلَوْ أَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ

نه دي حلالې تاته ښځې پس له دغو (نهو ښځو چې اوس دې په نکاح دي)، او نه دغه (درته روا دي) چې بدل کړې په دوی له نورو ښځو، اګر که تعجب در ولی تاته ښايست د هغو نورو هم.

تفسير: يعنې هومره اقسام يې چې په کې فرمايلي دي، له هغو څخه زياتې نه دي حلالې، او څه چې موجودې دي؛ د هغوی بدلول نه دي حلال، يعنې دغه چې له دوی ځنې کومه يوه د دې لامله خوشې کړې چې د هغې په ځای بله کومه يوه راولې.

إِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ

مګر (خو روا دي درته) هغه وينځې چې مالک وي ښې لاس د تا.

تفسير: يعنې وينځه، کنيزک، د رسول الله مبارک دوه ښځې مشهورې دي، يوه «مارية القبطية» چې د دې له نسه ابراهيم متولّد او په هلکتوب کې وفات شو، دويمه ريحانة رضي الله تعالى عنهما.

وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ رَقِيبًا ﴿٥٢﴾

او دی الله په هر څيز باندې ښه ساتونکی.

تفسير: يعنې الله تعالى درته ګوري چې په کوم يوه د احکامو او حدودو پابندي کوې؟ او پر کوم يوه يې نه کوې؟ نو ښايي چې انسان د هر کار د کولو په وخت کې همدغه خبره تر نظر لاندې ونيسي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتَ ٱلنَّبِيِّ إِلَّآ أَن يُؤۡذَنَ لَكُمۡ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيۡرَ نَٰظِرِينَ إِنَىٰهُ وَلَٰكِنۡ إِذَا دُعِيتُمۡ فَٱدۡخُلُواْ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) مه ننوځئ کورونو د نبي ته مګر (هغه وخت ننوځئ) چې اذن وکړی شي تاسې ته (خوړلو د) طعام ته په دغه حال کې چې نه اوسئ منتظر پخلي د هغه ته، وليکن کله چې وبلل شئ تاسې؛ پس ننوځئ !.

تفسير: يعنې بې له حکمه او اجازې دعوت ته مه ځئ ! ځو تاسې يې نه يئ غوښتی، پخپل سر چېرې مه درومئ ! که نه هلته به په انتظار کې ناست پاتې کېږئ، او د هغه کورنۍ د کارونو په اجراء کې به مانع ګرځئ، او د حرج عوامل به پيدا کوئ !.

فَإِذَا طَعِمۡتُمۡ فَٱنتَشِرُواْ وَلَا مُسۡتَـٔۡنِسِينَ لِحَدِيثٍۚ

پس کله چې طعام وخورئ؛ نو خواره شئ (نور ځنډ مه کوئ هلته)، او مه کښئ آرام نيوونکي لپاره د خبرو (يو له بل سره).

تفسير: يعنې څه وخت چې له ډوډۍ ځخه فارغ شوئ؛ نو ښايي د خپلو کورونو په طرف بهر ته ولاړ شئ ! ځکه چې د هملته کښناستلو او مجلس جوړولو ځخه هغه کوربه ته تکليف او حرج واقع کيږي، دغه خبرې اګر که د نبي الله صلى الله عليه وسلم د کورونو په متعلق فرمايلې شوې دي، ځکه چې د شان نزول تعلق له هغه سره دی، مګر تړې د يوه عمومي ادب ښوونه مقصود ده، چې: بې له غوښتنې د چا کړه تلل، يا د کوم مېلمه سره مل شوی په طفيلي حيثيت د چا کره ننوتل، يا پخوا له ډوډۍ همداسې خوشې هلته پنډېدل، او خبرې اترې کول، يا وروسته د ډوډۍ له فراغه هلته کښناستل، او مجلس او ساعت تيري کول نه دي پکار.

إِنَّ ذَٰلِكُمۡ كَانَ يُؤۡذِي ٱلنَّبِيَّ فَيَسۡتَحۡيِۦ مِنكُمۡۖ وَٱللَّهُ لَا يَسۡتَحۡيِۦ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ

بېشکه دغه (ننوتل کښناستل خبرې کول) دی داسې کار چې تکليف رسوي نبي ته، پس حيا کوي (نبي) له تاسې (چې وباسي تاسې) او الله حياء نه کوي له (ويلو د خبرې) حقې.

تفسير: يعنې نبي الله صلى الله عليه وسلم د شرم او حياء له وجې پر خپل ځان تکليف اخلي، او د خاطر او لحاظ لامله په صافو الفاظو سره دغو مېلمنو ته نه وايي چې ځئ ! خپلو ځايونو ته لاړ شئ ! چې ماته تکليف او اذيت پيښيږي، دا خو د نبي الله صلى الله عليه وسلم د اخلاقو وضعيت دی، مګر ستاسې له تأديب او اصلاح ځخه هيڅ شی پاک الله نشي منع کولی، او الله تعالى هرومرو د خپل رسول الله صلى الله عليه وسلم په ژبه تاسې ته خپل احکام در ښکاره کوي.

وَإِذَا سَأَلۡتُمُوهُنَّ مَتَٰعٗا فَسۡـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٖۚ ذَٰلِكُمۡ أَطۡهَرُ لِقُلُوبِكُمۡ وَقُلُوبِهِنَّۚ

او کله چې وغواړئ تاسې له دغو (مطهّراتو ازواجو) ځخه کوم متاع (کوم ځيز)؛ پس غواړئ هغه له دوی نه د باندې د پردې، دغه (غوښتل د باندې د پردې) د تاسې ډېر پاک ساتونکی دی د زړونو ستاسې او (ډېر پاک ساتونکی دی) د زړونو د دوی.

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «په دغه سره الله تعالى مسلمانانو ته ادب ښوولی دی، کله چې دوی به د ډوډۍ لپاره د رسول الله صلى الله عليه وسلم کره ورتلل؛ نو وروسته له ډوډۍ ځنې به هملته کښېناستل، او په خپلو خبرو اترو به

مشغولېدل، حال دا چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د هوسايۍ (آرام) او استراحت ځای به هم هغه وو، مګر دوی له شرمه او حياء دوی ته نه ویل چې ځئ پاځئ ! نو ځکه پاک الله دوی ته وفرمایل، او په دغه آیت کې د پردې حکم صادر شو، چې نارینه دې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له ازواجو سره مخامخ نشي، که کوم شی غواړي؛ بنايي چې د پردې له شاه يې وغواړي، په دغه کې د جانبینو زړه صاف او پاک پاتې کیږي، او د شیطاني وساوسو استیصال په عمل راځي».

وَمَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا أَنْ تَنْكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِنْ بَعْدِهِ أَبَدًا ۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمًا ﴿٥٣﴾

او نه ده روا تاسې ته دا چې تکلیف (او ضرر) ورسوئ رسول د الله ته، او نه ده (روا تاسې ته) دا چې په نکاح واخلئ ښځې د ده پس له وفات (یا طلاق) د ده هیڅکله، بېشکه دغه (ایذاء د رسول او د ازواجو نکاح یې) ده په نزد د الله (ګناه) ډېره لویه.

تفسیر: یعنې د کفارو او منافقینو هر څه چې زړه یې غواړي چتې دې ووایي، او پخپلو همدغو ایذاء رسولو کې دې مشغول اوسي !، مؤمنینو ته چې د ډېرو دلائلو او براهینو په رڼا کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم انتهایي امانت، عفّت، طهارت، ظاهر ا و څرګند شوی دی؛ دغه خبره لایقه او مناسبه نه ده چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حیات یا ممات کې داسې کومه خبره وکړي یا یې ووایي چې د دوی د ډېرې ضعیفي درجې ایذاء او خفګان سبب وګرځي، په مونږ او ټولو مؤمنانو لازم دي چې د خپل دغه محبوب او مقدس رسول د عظمت شان تل ترتله رعایت کړو، او همېشه فهم او دقّت وکړو، چې په غفلت او تساهل سره هم کوم داسې تکلیف ورکوونکی حرکت له مونږ څنې صادر نشي، چې د هغه لامله د دنیا او آخرت په زیان او خسارت اخته او ککړ شو.

له دغه تکلیف ورکوونکو حرکاتو څخه یوه ډېره سخته او لویه ګناه دغه ده چې: کوم سړی د دوی د مطهراتو ازواجو سره وروسته د دوی له وفاته خپله نکاح وترې، یا د داسې نالایقې ارادې اظهار د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حیات کې وکړي، ظاهر دی چې د مطهراتو ازواجو مخصوص عظمت د رسول الله صلى الله عليه وسلم د تعلق له سببه موجود او قایم شوی دی، او دوی له روحاني حیثیته د ټولو مؤمنینو محترمې میندې ټاکلې شوي دي، آیا وروسته له دې نه چې د کوم امّتي د نکاح په عقد کې راشي؛ د دوی هغه عزّت او احترام کما حقّه پاتې کېدی شي؟ وروسته له دوی نه کله چې دوی په کورني جنجالو او جګړو کې ولویږي؛ نو د تعلیم او تلقین او دیني احکامو د تبلیغ هغه اعلی غرض او مقصود څرنګه په اطمینان او آزادۍ سره تکمیل او پوره کولی شي؟ چې د هغه لپاره في الحقیقت الله تعالى دوی د رسول الله صلى الله عليه وسلم د زوجیت لپاره غوره کړي دي، او آیا کوم په انتهایي درجه سره بې حیاء انسان به هم باور کولی شي چې له سید البشر سره کومې بي بي صاحبې چې خپل عمر تېر کړی وي؛ هغه به د یوې شپې تېرولو له مخې هم بې د دوی له کوره په بل ځای کې اوسېدی شي؟ او هلته قلبي سکون او مسرّت هم حاصلولی شي؟ یا د هغه هیله په خپل زړه کې ګرځولی شي؟ خصوصًا څه وخت چې دغه خبره معلومه شوي هم وي چې دوی له هغو منتخبو او غورو خواتینو څخه دي چې د دوی په مخ د دنیا او آخرت دواړه لارې وروړاندې کړلې شوې؛ مګر هغوی په خپل ذوق او خوښې سره د دنیا پر عیش د رسول الله صلى الله عليه وسلم صحبت او خدمت او د آخرت عظمت ته ترجیح او اهمیت ورکړ، او د آخرت د لارې د اختیارولو اعلان یې وکړ.

لکه چې تاریخ راښیي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له وفاته وروسته دغو مطهّراتو ازواجو او جنتي مقدساتو خواتینو په څه عدیم النظر زُهد، ورع، تقوی، صبر او توکل سره د الله تعالى په عبادت او خپلو معنوي اولادوو په هدایت او د اسلامي احکامو په نشر او اشاعت او په دیني خدمت کې مواظبت کاوه، او خپل ګرد اوقات یې په همدغو

مهمّاتو کې صرف او وقف کړل، او هیڅ یوې له دوی ځنې په سهو او خطا سره هم دنیوي لذائذو او مشاغلو ته نه دي کتلي، او څرنګه داسې کوم خیال به د دوی په زړه کې تېر ېده؟ حال دا چې الله تعالی د دوی په نسبت داسې لطف او مرحمت فرمایلی وو: ﴿إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾ او په دغه سره یې د دوی د تزکیې او د تطهیر د کفالت بشارت ورکړی وو.

إِن تُبْدُوا شَيْئًا أَوْ تُخْفُوهُ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٥٤﴾

که چېرې ښکاره کړئ کوم شی (تاسې په خوله) یا یې پټ وساتئ (په زړونو کې)؛ پس بېشکه الله دی پر هر ځیز (د اعمالو ستاسې) ښه عالم.

تفسیر: یعنې مه په ژبه سره دغسې خبرې کوئ، او مه په زړه کې داسې وسوسې ته لاره ورکوئ ! ځکه چې د الله تعالی په نزد ظاهر او باطن او نور ګرد یو شان عیان دي، او هیڅ یو شی له ده ځنې پټ نه دی، او دی پر ګردو اخبارو او اسرارو علیم او خبردار دی.

لَّا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِي آبَائِهِنَّ وَلَا أَبْنَائِهِنَّ وَلَا إِخْوَانِهِنَّ وَلَا أَبْنَاءِ إِخْوَانِهِنَّ وَلَا أَبْنَاءِ أَخَوَاتِهِنَّ وَلَا نِسَائِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ

نشته ګناه پر دغو ښځو په (مخامخ کېدلو د) پلرونو د دوی کې، او نه په ځامنو د دوی کې، او نه په ورونو د دوی کې، او نه په ځامنو د ورونو د دوی کې، او نشته (ګناه پر دغو ښځو په مخامخ کېدلو د) ځامنو د خویندو د دوی کې، او نه په ښځو د دوی (یعنې په ښځو د نورو مؤمنانو)، او نه په هغو (وینځو) چې مالکان وي ښې لاسونه د دغو (ښځو لره).

تفسیر: پاس د مطهراتو ازواجو سره د نارینوو د مخامخ کېدلو ممانعت وشو، اوس دغه ښوولی کیږي چې دوی سره د دوی د محارمو مخامخ کېدل ممنوع نه دي، په دغه مورد کې کوم عمومي حکم چې د عمومي مستوراتو په نسبت د «النور» په سورت کې تېر شو؛ هم هغسې د مطهراتو ازواجو په نسبت هم حکم دی، د ﴿وَلَا نِسَائِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ﴾ کومه تشریح چې مونږ هلته په (١٠) رکوع کې کړې ده؛ هغه دې دلته بیا ولوسته شي !.

وَاتَّقِينَ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴿٥٥﴾

او وویرېږئ (ای ښځو !) له الله ! بېشکه الله دی پر هر شي باندې ښه شاهد عالم.

تفسیر: یعنې د پردې کوم احکام چې بیان شوي دي، او هغه استثناء چې په کې کړی شوې چې هغه په پوره ډول سره ملحوظ ولرئ، او لږ څه هم په هغه کې وړاندې وروسته لاندې باندې ونه کړئ ! او په ظاهر او باطن کې ښایي چې د الله تعالی د احکامو او د حدودو رعایت وکړئ، ځکه چې له الله جل جلاله څخه ستاسې هیڅ شی نه دي پټ: ﴿يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ﴾.

إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٥٦﴾

بېشکه الله او پرښتې د الله درود وایي پر نبي باندې، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو) درود ووایئ پر هغه (نبي) باندې او سلام (پرې) ووایئ په سلام ویلو سره.

تفسير: د «صلاة على النبي» مطلب دا دی: د نبي ثناء له تعظيم، رحمت، او عطوفت سره، بيا د هر يوه په طرف چې «صلاة» منسوب وي، سم د هغه د شان او مرتبې سره کومه ثناء، تعظيم، رحمت او عطوفت چې ورڅ او لايق وي؛ هم هغه به ترې مرادوه شي، لکه چې وايي: پلار پر ځوی او ځوی پر پلار، او ورور پر ورور مهربان دی، يا هر يو له بل سره مينه او محبت کوي، نو ظاهر ده د پلار کوم قسم محبت او مهرباني چې پر ځوی ده، د ځوی هغه قسم مينه او محبّت پر خپل پلار نه وي، او د ورور له ورور سره هم هغسې نشته، بلکه د دغو دواړو د مينې نوعيت بل شان دی، همداسې دلته يې هم قياس وکړئ او وپوهېږئ ! الله تعالى هم پر نبي «صلاة» ليږي، يعنې په رحمت او شفقت سره د ده ثناء، اعزاز او اکرام کوي، پرښتې هم پرې سلام ليږي، مګر د هر يوه صلاة، رحمت، تکريم اوتعظيم سم د ده د شان، مقام او مرتبې سره دی، وروسته له دی نه پر مؤمنانو حکم دی چې تاسې هم پر نبي صلى الله عليه وسلم صلاة او رحمت ولېږئ !، ښايي د دوی حيثيت له دغو دواړو څخه بيخي جلا وي، علماوو فرمايلي دي چې د الله صلاة، رحمت لېږل او د ملائکو په منځ کې پر هغه ثناء ويل دي، او د پرښتو صلاة استغفار دی، او د مؤمنينو صلاة دعاء ده، په حديث کې راغلي دي: کله چې دغه آيت نازل شو، صحابه وو رضي الله عنهم عرض وکړ: يا رسول الله ! د سلام طريقه خو مونږ ته معلومه شوې ده، يعنې چې د لمانځه په تشّهد کې داسې لوستل کيږي: السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، د صلاة طريقه هم مونږ ته ارشاد وفرمايئ ! څو يې مونږ په لمانځه کې ولولو، رسول الله صلى الله عليه وسلم د دغه درود تلقين دوی ته وفرمايه: «اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم إنك حميد مجيد، اللهم بارك على محمد و على آل محمد كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم إنك حميد مجيد».

غرض دا دی چې الله تعالى مؤمنيو ته حکم ورکړ چې تاسې هم پر نبي صلاة ولېږئ، نبي عليه السلام دغه راوښود چې ستاسې صلاة لېږل دغه دي چې له الله جل جلاله ځنې وغواړئ څو هغه زيات له زيات خپل رحمتونه تر أبد الآباد پورې تل ترتله پر نبي صلى الله عليه وسلم نازل وفرمايي !، ځکه چې د الله تعالى رحمتونه بېحده او بې نهايته دي.

إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُهِينًا ﴿٥٧﴾

بېشکه هغه کسان چې ايذاء رسوي الله ته (په ولد او شريک) او (ايذاء رسوي) رسول الله (ته په نسبت د سحر، شعر، جنون)؛ لرې کړي دي دوی الله (له رحمته خپله) په دنيا او په آخرت کې، او تيار کړی يې دی دوی ته عذاب سپکوونکی.

تفسير: د الله تعالى ايذاء دغه ده چې د ده رسول الله صلى الله عليه وسلم ته څوک ايذاء ورسوي، يا د ده لوی جناب په نسبت نالايقې خبرې وکړي.

وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا ﴿٥٨﴾

او هغه کسان چې ايذاء رسوي مؤمنانو سړيو ته او مؤمنانو ښځو ته (په اتهام) په غېر د هغه کار چې کړی وي دوی (يعنې په ناکړي کار)؛ پس په تحقيق باروي دوی پخپل ځان غټ دروغ او ګناه ښکاره (چې د عقوبت موجب دی).

تفسير: دغه منافقان وو چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم بد به يې ويل، يا د دوی د مطهراتو ازواجو په نسبت به يې د دروغو خبرې اترې لکه چې د «النور» په سورت کې مسطورې دي کولې، وروسته له دې نه د ځينو هغو ايذاوو د انسداد په نسبت ځينې ښوونې کړی شوي دي، چې د دغو منافقينو له خوا به ځينې مسلمانانو ښځو ته رسېدې.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ

ای نبي ووایه ښځو ته دې او لونو ته دې او ښځو (د نورو) مؤمنانو ته چې خواره دې کاندي پر ټولو ځانونو خپلو له ټکریو پرونو خپلو څخه.

تفسیر: یعنې وروسته د ټول بدن له پټولو څخه د ټکري څه برخه پر سر او څه برخه یې له سر ځنې راښکته پر خپله څېره باندې وځړوئ، په روایاتو کې راغلي دي چې وروسته د دې آیت له نزوله مسلمانانو ښځو به خپلې څېرې او ګرد بدنونه په خپلو ټکریو سره پټول، او بیا به د باندې داسې وتلې چې یواځې به د دوی یوه سترګه ښکاربده، چې په هغه سره په لاره تلی شوې، له دې نه معلومه او ثابته شوه چې د فتنې او فساد په وخت کې ښایي چې آزادې اصیلې ښځې خپله څېره هم پټه کړي، او وینځې د شدیدو ضروریاتو له سببه پر دغه نه دي مکلّفې، ځکه چې د دوی په کارو او چارو کې تکلیف او حرج پیښیږي.

ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا

دغه (پټول د بدن) نژدې دي دې ته چې وبه پېژندی شي دوی (چې اصیلي دي)؛ پس ایذاء به ونشي رسولی دوی ته (په زعم د وینځو)، او دی الله ښه ښونکی (د خطیّاتو) ډېر رحم کوونکی.

تفسیر: شاه صاحب (رحمه الله) لیکي چې: «ښه وپېژندله شي چې وینځه نه ده بلکه بي بي ده، د ننګ او ناموس مېرمن ده، بدبخته او بدناموسه نه ده، نېک بخته ده بد ذاته نه ده، څو بدنیته خلق هغوی ته لاس ونه غځوي، او نقاب یې د هغه ننبه کښبوده، دغه د بهترۍ حکم دې، وروسته یې وفرمایل چې: الله ښونکی مهربان دی»، یعنې که سره له دومره اهتمامه کوم تقصیر پاتې شي؛ نو د الله تعالی له مهربانۍ نه د ښنې توقع شته، (تکمیل)، دغه خو د آزادو ښځو په نسبت انتظام وو، څو هر څوک دوی وپېژني او د دوی ربړولو ته زړه ښه نه کړي، او بیا د دروغو حیله ورته جوړه نه کړي، وروسته له دې د عمومي ګوتې وروړلو او لاس غځولو په نسبت تهدید او ویرول دي، اعم له دې چې له کومې مېرمنې سره وي، یا له کومې وینځې سره.

لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ

قسم دی که منع نشول منافقان (له نفاق څخه) او هغه کسان چې په زړونو د دوی کې رنځ دی (د زنا کولو ـ له بد کارۍ خپلې نه).

تفسیر: یعنې پر هغو خلقو چې د بد نظرۍ او شهوت پرستۍ مرض لګېدلی دی.

وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ

او بدې آوازې ګډوونکي په (ښار د) مدینې کې.

تفسیر: د غه غالبًا یهودان دي، یا ممکن دي چې هغه منافقان ترې مراد وي چې علی الأکثر به یې دروغ خبرې شایع کولې، او د اسلام او د مسلمانانو په خلاف به یې شایعات او انتشارات کول.

لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا ۝ مَّلْعُونِينَ ۖ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلًا ۝

نو خامخا به وګمارو مسلّط به کړو مونږ خامخا تا پر دوی، بیا به همسایه توب ونه کړي (دوی) د تا په دغه (مدینه کې) مګر لږ وخت. رټلي ترټلي شوي هر چېرې چې وموندلی شي؛ وبه نیولی شي، او وبه وژلی شي په وژلو (د خواری سره).

تفسير: يعنې که دغه بد سړي د خپلو دغو حرکاتو څخه لاس وانخلي؛ نو مونږ به تا پر هغوی مسلط کوو، چې په څو ورځو کې تاسې هغوی له مدينې منورې څخه د باندې و شړئ، او هومره ورځې چې دلته اوسيږي؛ د ذلت په صفت کې به پاتې وي، لکه چې دغه يهودان ګرد وشړل شول، او منافقانو به د دغو ويرولو او ډارولو په اثر ښايي خپله رويه بدله کړي وي؛ نو ځکه له سزا څخه يې نجات وموند.

سُنَّةَ اللَّهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلُ ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ تَبْدِيلًا ﴿٦٢﴾

دا يوه لاره ايښې ده الله لاره په حق د هغو (منافقانو مرجفانو) کې چې تېر شوي دي پخوا له دې نه، او له سره به نه مومې ته لارې د الله ته هيڅ تبديل تغيير.

تفسير: يعنې عادت الله په همدې دوام لري، هغه کسان چې د انبياء الله په مقابل کې شرارتونه کوي، او فتنه او فساد خوروي؛ همداسې ذليل، خوار او هلاک کړي، يا دغه مطلب دی چې په پخوانيو کتابونو کې همدغه حکم شوی دی چې مفسدان له خپله منځه د باندې وباسئ ! لکه چې شاه صاحب (رحمه الله) يې له تورات څخه نقلوي.

يَسْأَلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ اللَّهِ ۚ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ﴿٦٣﴾

پوښتنه کوي له تا څخه خلق له قيامت (د راتلو چې کله دی؟) ووايه (ای محمده ! دوی ته) بېشکه همدا خبره ده علم د قيامت (خاص) په نزد د الله دی، او څه شي پوه کړی يې ته (په قيام د قيامت؟، يعنې ته ترې بېخبره يې، بيا نو ورته ووايه) ښايي چې قيام د قيامت دی نژدې.

تفسير: اګر که د قيامت د صحيح وخت تعيين الله هيچا ته نه دی ښوولی، مګر دلته يې د هغه د قُرب په طرف اشاره فرمايلې ده، په حديث کې راغلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خپله د شهادت او وسطى ګوتې پورته کړې، او ورسره يې وفرمايل: «أنا والساعةُ كهاتين» «زه او قيامت د دغو ګوتو په شان يو»، يعنې هومره چې وسطى ګوته د سبابې په نسبت وړاندې ختلې ده؛ نو زه له قيامت څخه هم دغومره قدر ړومبى راغلى يم، قيامت ډېر نژدې او په ما پسې ژر راتلونکى دی.

إِنَّ اللَّهَ لَعَنَ الْكَافِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا ﴿٦٤﴾

بېشکه الله رټلي دي کافران (منکران د بعث له رحمت خپله)، او تيار کړی يې دی دوی ته سختې لمبې وهونکی اور.

تفسير: يعنې د دغه لعنت اثر دی چې دوی داسې لا طائل سوالات کوي، او د آخرې خاتمې او د عاقبت هيڅ فکر نه کوي.

خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٦٥﴾ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ

په دغه حال کې چې همېشه به اوسيږي په دغه اور کې تل ترتله، نه به مومي دوی هيڅ دوست (چې يې ترې وباسي) او نه کوم مددګار (چې عذاب ترې لرې کړي). (ياده کړه) هغه ورځ چې چورلولى به شي مخونه د دوی په اور کې.

تفسير: يعنې پرمخې نسکور غورځولى کيږي، او د دوی څېرې به په اور کې لاندې باندې کيږي.

يَقُولُونَ يَٰلَيْتَنَآ أَطَعْنَا ٱللَّهَ وَأَطَعْنَا ٱلرَّسُولَا ﴿٦٦﴾

وايي به دوی: ای کاشکې مونږ اطاعت کړی وی د الله، او اطاعت کړی وی مونږ د رسول (د الله).

تفسير: په دغه وخت به ارمان او افسوس کوي چې کاشکې مونږ په دنيا کې د الله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر وينا غوږ ايښي وی، او پر هغه مو عمل کړی وی، څو له دغه بدې ورځې سره مخامخ شوي نه وی.

وَقَالُوا۟ رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَأَضَلُّونَا ٱلسَّبِيلَا ﴿٦٧﴾ رَبَّنَآ ءَاتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ ٱلْعَذَابِ وَٱلْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا ﴿٦٨﴾

او وايي دوی: ای ربه ځمونږ ! بېشکه مونږ اطاعت کړی وو مونږ د مشرانو خپلو، او د غټانو خپلو، پس ورکه کړه دوی له مونږ څخې سمه لاره. ای ربه ځمونږ ! ورکړه دوی ته دوچنده له عذابه، او لرې کړه دوی له رحمته خپله رټلو ترټلو لويو سره.

تفسير: دغه به د قهر له شدّته وايي چې: ځمونږ دغو دنيوي سردارانو، مشرانو او مذهبي پېشوايانو مونږه وغولولو، او په دروغو او فرېبو يې په دغه غم او مصيبت کې اخته کړو، د همدوی په لمسون د حق له لارې څخه بې لارې شو، نو که اوس مونږ ته سزا راکوله کېږي؛ ښايي دوی ته ځمونږ په نسبت دوچنده سزا ورکړه شي، او هغه لعنت او زحمت چې پر مونږ نازليږي؛ له هغه څخه دې زيات پر دوی هم نازل شي، ځکه چې د دوی پر دوچنده سزا ورکولو سره د خپل زړه يخول غواړي، په همدغه مضمون يو بل آيت د «الأعراف» په (۴) رکوع کې تېر شوی دی، هلته دې د دوی د دغې غوښتنې ځواب هم شته، هغه دې هلته بيا ولوستل شي !.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوْا۟ مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ ٱللَّهُ مِمَّا قَالُوا۟ ۚ وَكَانَ عِندَ ٱللَّهِ وَجِيهًا ﴿٦٩﴾

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) مه کېږئ په شان د هغو کسانو چې ايذاء يې رسولې وه موسی ته؛ پس پاک کړ دغه (موسی لره) الله له هغو دروغو چې دوی پرې ويل، او وو (موسی) په نزد د الله کې وجيه (مخور خاوند د عزّت).

تفسير: يعنې تاسې داسې کوم کار يا خبره مه کوئ چې له هغه نبي عليه السلام ته ايذاء ورسيږي، دغه ايذاء نبي عليه السلام ته هيڅ زيان او ضرر نشي رسولی، ځکه چې دی د الله تعالى په دربار کې لوی عزّت او پت لري، او الله جل جلاله به له ده ځنې هغه د اذيت ګردې خبرې لرې کوي، مګر په هغه سره ستاسې آخرت خرابيږي، وګورئ چې د موسی عليه السلام په نسبت خلقو څرنګه د اذيت خبرې کولې، مګر الله تعالى د موسی عليه السلام د وجاهت او مقبوليت له وجې د هغو ټولو ابطال وفرمايه، او د موسی عليه السلام بې داغي يې ثابته کړه، په رواياتو کې راغلي دي چې ځينو مفسدينو پر موسی عليه السلام تهمت لګاوه چې هارون عليه السلام يې بېديا ته بيولی دی او هلته يې وژلی دی، نو الله تعالى په يوه خارقه طريقه سره د هغه تردید وفرمايه، او په صحيحينو کې راغلي دي چې موسی عليه السلام د حياء له وجې د هغې زمانې د خلقو د رواج او دستور په خلاف به په پټ ځای کې تل په پټه غسل کاوه، خلقو به ويل چې: د دوی په بدن کې هرومرو څه عيب دی، يا د برص داغ لري، يا يې خصيې پرسېدلې دي، يوه ورځ موسی عليه السلام غسل کاوه او خپل کالي يې ايستلې پر يوې تيږي يې ايښې وو، هغه تيږه د دوی له کالیو سره وتښتېده، موسی

علیه السلام بربنډ له اوبو څخه ووت او خپله همسا یې واخیسته، او په هغې تیرې پسې پر منډو شو، په دغه وخت کې ټولو خلقو دوی ته کتل، او ګردو ته دغه حقیقت ورڅرګند شو، چې د دوی مبارک وجود بیخي پاک او بې عیبه دی.

تنبیه: د موسی علیه السلام بربنډ ځغلېدل په تیرې پسې د مجبوریت لامله وو، او ښایي دا یې هم خیال کې نه وي ګرځیدلي چې دغه تیره به برابره هغې لویې مجمعې ته ورځي، او هلته به دریږي، پاتې شو د تیرې دغسې حرکت؛ نو هغه د فوق العادت په ډول وو.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٧٠﴾ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَٰلَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧١﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) وویرېږئ له عذاب د الله، او ووایئ خبره سمه محکمه رښتیا. چې نېک صالح کړي (الله) تاسې ته عملونه ستاسې، او وبښي (الله) تاسې ته ګناهونه ستاسې، او هر چا چې اطاعت وکړ د الله او د رسول د (الله)؛ پس په تحقیق بریالی (کامیاب) شو په بري ډېر لوی سره.

تفسیر: یعنې ای مؤمنانو ! له الله تعالی څخه ووېرېږئ او وپوهېږئ چې سمې خبرې کوونکي ته د ډېرو ښو او مقبولو اعمالو توفیق ور په برخه کیږي، او ګناهونه او تقصیرات یې ورمعافیږي، په حقیقت کې یواځې د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اطاعت کې د حقیقي بري او کامیابۍ راز پټ دی، هر هغه څوک چې دغه لاره غوره کوي؛ په مراد رسیږي.

إِنَّا عَرَضْنَا ٱلْأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱلْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا ٱلْإِنسَٰنُ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ﴿٧٢﴾

بېشکه وړاندې کړ مونږ امانت (ثواب ـ عقاب) پر اسمانونو او پر ځمکه او غرونو (کله چې مو پیدا کړ په دوی کې فهم او نطق)؛ پس منع راوړه دوی له دې چې پورته کړي هغه (د امانت بار) او وویرېدل دوی له هغه (امانت)، او پورته کړ هغه (د امانت بار) انسان، بېشکه چې دغه (انسان) دی ظالم ډېر نادان (په عاقبت خپل).

تفسیر: یعنې انسان پر خپل ځان لوی ظلم او ستم وکړ، د هغه بار او پیټي په اوږو اخیستلو څخه چې اسمانونو، ځمکې او غرونو د خپلې ناتوانۍ او عجز اظهار وکړ، چې پورته کولی یې نشو؛ دغه ناپوه انسان هغه پر خپلو اوږو واخیست.

اصلي خبره دا ده چې الله تعالی د خپل یو خاص امانت کښودل د مخلوقاتو په کومه نوعه کې اراده وفرمایله، چې که هغه غواړي؛ نو دغه امانت په خپلې سعي او کسب او د مټ په قدرت او قوّت وساتلی شي، بلکه تزیید او ترقي هم ورته ورکړه شي، هغه افراد چې هغه امانت په پوره ډول سره محفوظ ساتي او ترقي ورته ورکړي؛ پر هغو انعام او اکرام وکړي، او هر هغه چې په غفلت او شرارت سره هغه ضایع کړي؛ نو هغه ته به سزا ورکړه شي، او هغه کسان چې په دغه مورد کې لږ شان قصور وکړي؛ له هغوی سره د عفوې او د ښېلو معامله وکړه شي، ځما په خیال دغه امانت د ایمان او د هدایت یو تخم دی، چې د بنیادمانو په زړونو کې شیندلی او کرلی شوی دی، چې هم هغه ته «مابه التکلیف» هم ویلی شو، «لا إیمان لمن لا أمانة له» چې د دغه د ساتنې او په حفاظت کې له مداومت څخه د ایمان ونه زرغونیږي، ګواکې د بني آدمیانو قلوب د الله تعالی ځمکه ده، چې تخم هم په هغو کې پخپله الله شیندلی (کرلی) دی، د باران ورولو لپاره یې د رحمت ورېځې هم لېږلې دي، چې د هغوی له سینو ځنې د الله تعالی د وحي باران هم ورېدلی دی، د هر انسان فریضه

دا ده چې د ایمان دغه تخم چې د الله تعالی امانت دی؛ ضایع نه کړي، بلکه په پوره سعی، کوښښ، سره د هغه پرورش او پالنه وکړي، او ډېر زیات دقّت دې وکړي، څو په سهو، خطا اوغلطی هم دغه تخم ونه سوځیږي، او ضایع نشي.

لِّيُعَذِّبَ اللَّهُ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكَاتِ وَيَتُوبَ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٧٣﴾

(دغه د امانت عرض د دې لپاره وو) چې عذاب ورکړي الله منافقانو سړیو او منافقاتو ښځو ته، او مشرکانو سړیو او مشرکاتو ښځو ته، او رجوع په رحمت سره وکړي الله پر مؤمنانو سړیو او مؤمناتو ښځو، او دی الله ښه بخښونکی (د خطیّاتو) ډېر رحم کوونکی.

تمت سورة الأحزاب بعون الله الملك الوهاب، فلله الحمد والمنة.

سُورَةُ سَبَإٍ

«د (سبأ) سورت مکي دی، پرته له (۶) آیته څخه چې مدني دي (۵۴) آیتونه او (۶) رکوع لري، په نزول کې (۵۸) او په تلاوت کې (۳۴) سورت دی، وروسته د «لقمان» له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْآخِرَةِ ۚ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ①

ټوله ثناء صفت خاص الله لره دي، هغه چې خاص هغه ته دي هر هغه (شیان) چې په اسمانونو کې دي، او هر هغه شیان چې په ځمکه کې دي (سره له اسمانونو او ځمکې ملکا خلقًا عبیدًا)، او خاص همدغه (الله) لره ده ټوله ثناء صفت په آخرت کې (لکه چې په دنیا کې هم ده)، همدغه (الله) ښه حکمت والا ښه خبردار دی.

تفسیر: یعنې ګرد محاسن او محامد او تعریف هغه الله جلّ جلاله ته دي چې واحد احد دی، او بې د نورو له شرکته د ګردو اسمانونو او د ځمکو د شیانو مالک او خالق دی، او په نهایت حکمت او خبرداری سره د دوی انتظام او تدبیر کوي، او دغه سلسله یې چتې نه ده پیداکړې، د داسې حکیم او دانا په نسبت دغه ګمان نشي کېدی، ضرور دغه نظام بالآخر پر کومې اعلی نتیجې منتهي کېدونکی دی، چې هغه ته آخرت وایي، او څرنګه چې همدی په دنیا کې یواځې د ټولو تعریفاتو مستحق دی، په آخرت کې هم یواځې همدی د ټولو تعریفاتو مستحق دی، بلکه دلته خو ظاهرًا د نورو کسانو هم لږ څه تعریف کېدی شي، لیکن هلته نور ګرد وسایط او پردې لرې کیږي، او هر شی لیدل کیږي، هغه ګرد د همده له طرفه وي، نو ځکه صورتًا او معنًا او حقیقتًا بلکه له هر حیثیته یواځې د هم هغه مطلق محمود تعریف پاتې کیږي.

يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۚ

معلوم دي (الله ته) هر هغه شی چې ښکته ننوځي په ځمکه کې او هر هغه شی چې بیرون راوځي له دغې (ځمکې) څخه، او هر هغه څیز چې راښکته کیږي له اسمانه، او هر هغه شی چې پورته خیژي په دغه (اسمان) کې.

تفسیر: یعنې په اسمان او ځمکه کې هیڅ یو لوی او وړوکی داسې څیز نشته، چې د ده له علم څخه خارج وي، هر هغه شی چې په ځمکه کې ښکته ننوځي، مثلاً حشرات، خوځندې، د نباتاتو تخم، د باران اوبه، د مړیو اجساد او هر هغه شیان چې له ځمکې څخه د باندې راوځي او بهر کیږي مثلا: زراعت، نباتات، معدنیات او نور، او هغه شیان چې د اسمان له جانبه راښکته کیږي لکه: باران، وحي، تقدیر، پرښتې او نور، او هغه شیان چې پورته خیژي اسمان ته مثلاً: روح، دعاء، اعمال، ملائک او نور، پر دغو ګردو انواعو او جزئیاتو د الله تعالی علم محیط دی.

وَهُوَ الرَّحِيمُ الْغَفُورُ ②

او همدغه (الله) ډېر رحم کوونکی دی، ښه ښښونکی دی (د خطیّاتو).

تفسير: يعنې دغه ګرد د ژوندون رونق ښايست د الله تعالى له رحمته او ښښې څخه دى، که د بندګانو د دغې ناشکرۍ او د حق نه پېژندلو په اثر لاس په لاس د دوى په نيونو باندې لاس پورې کېدى؛ نو دغه ګرد رونق او ښايست به په يوه لمحه کې ختمېده: ﴿وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوا مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهْرِهَا مِن دَابَّةٍ﴾ (د فاطر سورت (۴۵) آيت (۵) رکوع (۲۲) جزء).

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ ۖ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ

او وايي هغه کسان چې کافران شوي دي چې را به نشي مونږ ته قيامت، ووايه (اى محمده ! دوى ته چې ولې به رانشي) بلکه رابه شي، قسم دى ځما په رب خپل چې خامخا رابه شي هرومرو (لازمًا) دا قيامت تاسې ته.

تفسير: يعنې هغه انسان چې د ده د صدق او امانت اقرار له نورو ګردو موجوداتو څخه ړومبى وو؛ اوس له براهينو څخه د ده صداقت په پوره ډول سره ښکاره شو، په مؤکد قسم سره د الله تعالى له طرفه خبر ورکوي چې خامخا قيامت راتلونکى دى، نو بيا يې هيڅ علّت او سبب نه دى معلوم، چې ولې يې دوى نه مني، هو ! که کومه محال خبره يا له حکمت څخه مخالفه کومه خبره يې کړي وى؛ نو د انکار ځاى به په کې وو، ليکن دغه خو نه محاله ده، او نه له حکمت څخه مخالفه ده، نو بيا له هغه څخه انکار که ضد او عناد او سرتمبګي نه ده؛ نو څه ده؟.

عَالِمِ الْغَيْبِ ۚ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَلَا أَصْغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَا أَكْبَرُ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ ۝٣

(هسې رب) چې عالم دى په غيبو، نه پټيږي له ده په اندازه د يوې ذرې په اسمانونو کې او نه په ځمکه کې، او نه وړوکى له هغې ذرې، او نه لوى (ترې) مګر (چې دا ټول ليکلي پراته دي) په کتاب ښکاره (لوح محفوظ) کې.

تفسير: يعنې په هم هغه عالم الغيب قسم دى چې د ده له محيط علم څخه د اسمان او د ځمکې هيڅ يو لوى يا وړوکى شى، يا يوه ذره يا له ذرې څخه وړوکى يو شى هم نه دى پټ، او نه هيڅ شى ترې غائبيږي، ښايي چې دغه يې ځکه فرمايلي وي چې د قيامت د وخت تعيين مونږ له سره نشو کولى، د هغه علم له هغه چا سره دى چې د هغه له علم څخه هيڅ يو شى خارج نه دى، مونږ ته هغومره خبر چې هغه راکړى دى؛ هغه مو بې له زيادته او تنقيصه درورسوه، او په دې سره د هغې خبرې ځواب هم وشو: ﴿وَقَالُوا أَإِذَا ضَلَلْنَا فِي الْأَرْضِ﴾ الآية ـ يعنې کله چې ځمونږ ذرات په ځمکه کې منتشر شي، بيا به څرنګه سره يو ځاى کيږي؟ نو دغه يې راوښوول چې هيڅ يوه ذره هم د الله تعالى له علمه نه ده غائبه، او پخوا يې دغه رابنوولي وو چې د اسمان او د ځمکې پر هر يوه شي د ده قبضه ده، نو بيا به ده ته څه مشکل وي چې ستاسې ګرد منتشر ذرات يو ځلې سره راټول کړي.

تنبيه: له ښکاره کتاب څخه «لوح محفوظ» مراد دى، چې په هغه کې هر شى سم د الله تعالى له علمه سره ثبت دى.

لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ۚ أُولَٰئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ۝٤ وَالَّذِينَ سَعَوْ فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ ۝٥

لپاره د دې چې جزا ورکړي (الله) هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړى دى او کړي يې دي ښه (عملونه) دغه (نيکوکاران مؤمنان چې دي؛) شته دوى ته مغفرت بخښنه او رزق روزي ښه (د

عزت چې جنّت دی). او هغه کسان چې سعي کوښښ کوي په (ابطال د) آيتونو (د قرآن) ځمونږ په دې حال چې عاجز کوونکي وي د الله (په زعم خپل)؛ دغه کسان شته دوی ته عذاب له عذابه دردناکه ځخه.

تفسير: يعنې د قيامت راتلل ځکه ضروري دي چې خلقو ته د دوی د نېکۍ او بدۍ نتيجه او ثمره ورکړه شي، او د الله تعالى د ټولو صفاتو کامل ظهور په عمل راشي.

تنبيه: «هغه کسان چې سعي او کوښښ کوي په باطلولو د آيتونو د قرآن ځمونږ» مطلب دا دی چې ځمونږ د آيتونو په ابطال او د خلقو په ممانعت کې د هغو له قبول ځخه قولاً او فعلاً کوښښ کوي، او د دغه مقصد د په مخ بيولو لپاره ټينګ ولاړ دی، ګواکې دوی (العياذ بالله) داسې غواړي چې الله تعالى عاجز کړي، او پر او مغلوب يې وګرځوي، او داسې ګڼي چې دوی د ده په لاس کې راتلونکي نه دي، او هرومرو له ده ځنې خپل ځان بچ کوي.

وَيَرَى الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ الَّذِي أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ هُوَ الْحَقَّ ۙ وَيَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ﴿٦﴾

او (بل لپاره د دې ليکلي پراته دي په لوح محفوظ کې) چې ووينې هغه کسان چې ورکړی شوی دوی ته علـم فهم هغـه (قرآن) چې نازل شوی دی تاته له (جانبه د) رب ستا؛ هم هغه حق دی، او سمه لاره ښيي طرف د لارې (د هغه الله ته چې) ښه زبردست ډېر ستايلی شوی دی.

تفسير: يعنې ځکه قيامت راتلونکی دی، څو هغه کسان چې پرې يقين او باور لـري هغو ته عين اليقين حاصل شي، او په خپلو سترګو سره هم د هغه وقوع او قيام ووينې، او ښه وپوهيږي چې د لوی قرآن بيان څرنګه بې له تزييده او تنقيصه صحيح ثابت شو، او بېشکه چې قرآن هم هغه لوی او زبردست کتاب دی چې الله ته مو رسوي، او سمه صافه لاره راښيي، ځينې مفسرين د ﴿وَيَرَى الَّذِينَ﴾ الآية ـ مطلب داسې اخلي چې د ﴿وَالَّذِينَ سَعَوْ فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ﴾ په برخلاف هغه کسان چې پوهان او اهل العلم دي، اعمّ له دې چې مسلمانان وي که کتابيان، هغوی پوهيږي او وينې چې د قيامت او نورو په متعلق د قرآن مجيد بيان بيخي صحيح دی، او انسانانو ته د وصول الى الله ښه طريقه ورښيي، او په سمه صافه لاره يې برابروي.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ۙ إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿٧﴾ أَفْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَمْ بِهِ جِنَّةٌ ۗ

او وايي هغه کسان چې کافران شوي دي: آيا (وښيو) دلالت وکړو تاسې ته په يو سړي چې خبر درکوي تاسې ته کله چې ذرې ذرې کړی شئ تاسې په کامل ذره ذره کېدلو سره، بېشکه چې تاسې خامخا په پيدايښت نوي کې يئ. آيا له خپله ځانه ترلي دي (محمد) پر الله باندې دروغ؟ يا ورپورې لېونتوب دی؟.

تفسير: د قريشو کفّارو د رسول الله صلى الله عليه وسلم په شان کې دغسې ګستاخي او سپين سترګي کوله، يعنې راځئ چې مونږ تاسې ته هغه سړی دروښيو چې وايي وروسته له مړ کېدلو او پرسېدلو او وراسته کېدلو او خاورو او دوړو کېدلو ځخه بيا له خاورو ځخه راټولېږئ او له تاسو ځنې هم داسې روغ جوړ انسانان پيدا کيږي، او بيا به هم داسې ژوندي له قبرونو راپاڅولی کېږئ، ښه نو پر داسې چټي او مهملو خبرو څوک يقين او باور کولی شي؟ او څرنګه يې منل امکان لري؟ له دوو حالو ځخه خالي نه دی؛ يا خو دغه شخص عمداً په قصد سره پر پاک الله دروغ تړي، چې ده

داسې خبر راکړی دی، که نه لېونی او سودايي دی، او دماغ يې پخپل ځای کې نه دي، نو ځکه دا هسې اپلتې او چتې خبرې کوي (العياذ بالله).

بَلِ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ فِي الْعَذَابِ وَالضَّلٰلِ الْبَعِيْدِ ۝

(نو فرمايي الله تر ديداً: داسې نه دي) بلکه هغه کسان چې ايمان نه راوړي په آخرت په عذاب کې به وي (په عُقبى کې) او په ګمراهي لويه کې (لوېدلی دی په دنيا کې).

تفسير: يعنې نه دروغ دي او نه جنون، بلکه خالي دغه خلق پخپله د عقل، پوهې، صدق او صواب له لارې ځخه ښوييدلي دي، او له حق او يقين ځخه ډېر لرې لويدلي دي، چې دغسې چتې خبرې کوي او په خپل دغه انکار او تکذيب سره خپل ځان په آفت او عذاب کې اخته کوي، في الحقيقت دغه ډېر لوی عذاب دی چې د انسان دماغ په دغه اندازه سره خراب او مختل شي؛ چې دی د الله تعالى انبياوو ته مفتري، مجنون او نور شيان ووايي (العياذ بالله).

اَفَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۭ اِنْ نَّشَاْ نَخْسِفْ بِهِمُ الْاَرْضَ اَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ ۭ

آيا نه ګوري (دا کافران) هغه ځيز ته چې په مخ کې د دوی دی او هغه ځيز ته چې وروسته د دوی دی له اسمانه او له ځمکې (چې دوی په کې محاط وي)، که چېرې اراده وفرمايو؛ نو ځيري به کړو په دوی ځمکه (او په کې به يې ډوب کړو په شان د قارون)، يا به وغورځوو پر دوی باندې يوه ټوټه له اسمانه.

تفسير: آيا دغه خلق ړانده شوي دي چې اسمان او ځمکې ته هم نه ګوري، او خپل شاوخوا ته هم سترګې نه غړوي، چې پر موجوداتو خپل عقل او فکر وچلوي، پر دغې خبرې باندې خو پخپله دوی هم قايلان دي چې د دوی او د ګردو علوياتو او سفلياتو خالق الله دی، بيا ښه آيا هغه الله ته چې د دغو شيانو مالک او خالق دی؛ د دغو شيانو خرابول او ماتول او بيا جوړول هغه ته څه سختي او اشکال لري؟ او هغه ذات ته چې داسې عظيم الشأن اجسام جوړولی شي، او لاندې باندې او ويجاړولی يې شي؛ د انساني جسم تخريب، تفکيک او تجزيه او بيا يې سره ټولول، ژوندي کول او پاځول ځخه اشکال لري؟ آيا دغه خلق له دې نه نه ويريږي چې د الله تعالى پر ځمکه او تر اسمان لاندې اوسيږي او بيا داسې د بې ادبۍ او ګستاخي خبرې کوي، او بېځايه خپلې ژبې خوځوي، حال دا چې که الله تعالى اراده وفرمايي؛ په يوه رپه کې به دوی يا په ځمکه خښوي، يا به له اسمانه يوه ټوټه پرې وغورځوي او دوی به بيخي سپېره او فنا کړي، او په همدغه دنيا کې به د قيامت يوه وړوکې نمونه دوی ته وښيي.

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ۝

بېشکه په دغه (کتلو د پاس او ټيټ او خسف او اسقاط) کې خامخا دلائل دي لپاره د هر بنده رجوع کوونکي (الله ته).

تفسير: يعنې هر هغه بنده چې له عقل او انصاف ځخه کار واخلي؛ نو د الله تعالى په طرف يې رجوع کيږي، ځکه چې پوه او عاقل انسان ته په علوياتو او سفلياتو او ما فيهما کې ډېر زيات د قدرت لويې نښې او د لائل موجود دي، د دغه منظم او ډک له حکمته نظام له ليدلو ځخه پوهيږي چې هرومرو دغه ګرد يوه ورځ خپلې عُليا او اکملې نتيجې ته

رسېدونکی دی، چې د هغې نوم «دار الآخرة» دی، کله چې دوی دغه تصّور وکړي؛ نو زیات له زیاته خپل مالک او خالق الله تعالی ته رجوع کوي، او د هغو علوي او سفلي نعماوو چې ورته رسیږي؛ شکریه اداء کوي، له دغو بندګانو څخه د ځینو تذکره پاک الله داسې فرمایي چې:

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ مِنَّا فَضْلًا ؕ يٰجِبَالُ اَوِّبِيْ مَعَهٗ وَالطَّيْرَ ۚ

او خامخا په تحقیق ورکړی وو مونږ داود ته له جانبه خپله فضل (لویي پر نورو، وموفرمایل غرونو ته چې) ای غرونو ! راوګرځوئ (ښه) غږونه خپل له ده سره (په وخت د تسبیح کې، او له ده سره تسبیح ویل) مرغانو هم.

تفسیر: یعنې الله تعالی داود علیه السلام ته له نبوّت سره غیر معمولي سلطنت هم ورعنایت فرمایلی وو، داود علیه السلام به کله کله بیدیا او صحرا ته هم ووت، او هلته به د الله تعالی په ذکر او یاد مشغولېده، او د الله تعالی له خوفه به یې ژړل، او په تسبیح او تهلیل به مشغولېده ، او په خپل هغه ښکلي غږ سره به چې ضرب المثل دی؛ د (زبور) په لوستلو مصروفېده، د ده د تسبیح او تهلیل د عجیب او غریب تأثیر په سبب به له ده سره غرونو هم تسبیح لوستل، او ګرد مرغان به هم د دوی په شاوخوا کې سره ټولېدل، او د ده په شان هغوی به هم تسبیح او تهلیل وایه، که د غرونو له تسبیح څخه د ده د غږ محض عکس العمل (انګی) مراد وي؛ یا هغه عمومي تسبیح مراد وی چې هر شی یې د خپل حال یا د قال په ژبه سره اداء کوي یا یې وایي؛ نو د داود علیه السلام د مخصوص فضل او شرف په ذیل کې به د دغې خبرې تذکره بیخي مهمله او بې معنی وی (العیاذ بالله)، نو معلومه شوه چې مراد ترې تسبیح ویل دي، د ﴿يٰجِبَالُ اَوِّبِيْ مَعَهٗ﴾ حکم تکویني دی.

وَاَلَنَّا لَهُ الْحَدِيْدَ ۝ اَنِ اعْمَلْ سٰبِغٰتٍ وَّقَدِّرْ فِي السَّرْدِ

او پسته کړي وه مونږ ده ته اوسپنه. (امر وفرمایه الله داود ته داسې) چې جوړوه څغرې ارتې اوږدې، او اندازه کوه په اوبدلو کې (چې حلقې یې سره برابرې وي).

تفسیر: د داود علیه السلام په حق کې یې اوسپنه لکه موم پسته وګرځوله، او ده به یې د اور د صناعیه وو آلاتو له مرستې اوسپنه په هر شان سره چې غوښته؛ کږوله او تاووله به یې، او پنډه او نرۍ کوله، او له هغې څخې به یې څغرې او نور دقیق او نفیس آلات او ادوات جوړول او پلورل به یې، او له هغې څخه به یې د خپل قوّت او معاش وسایل برابرول، او پر اسلامي بیت المال به یې خپل د اعاشې بار نه غورځاوه، وایي چې: کړۍ لرونکې څغرې ړومبی ځلې د ده له لاسه ایجاد او اختراع ومونده، چې ارتې او پراخې وې، الله تعالی ده ته امر ورکړ چې پراخې او ارتې څغرې جوړوه ! او د هغو حلقې او کړۍ په ښه نظم او ترتیب سره ونښلوه ! چې د خپل لویوالي ـ وړوکوالي او نریوالي په اعتبار یو له بل سره متناسبې وي.

وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ؕ اِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝

او عمل کوئ تاسې د نېکیو، بېشکه زه چې یم پر هغو کارونو چې کوئ یې تاسې ښه لیدونکی یم.

تفسیر: یعنې د دغو چارو او صنایعو په مشغولیت کې د حقیقي منعم له یاده مه غافلېږئ ! او تل ترتله په صالحه وو اعمالو کې مشغول اوسئ ! او دغه خبره په یاد ولرئ چې الله تعالی ګرد اعمال او احوال وینې.

وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَّرَوَاحُهَا شَهْرٌ ۚ وَاَسَلْنَا لَهٗ عَيْنَ الْقِطْرِ ۭ

او (مسخر کړی مو وو) سُلیمان ته باد (د) سبایي (منزل) د هغه (د) یوې میاشتې، او (د) بیګایي (منزل) د هغه د یوې میاشتې (لاره) وه، او بهولې مو وه د ده لپاره چینه د ویلې کړی شویو مسو.

تفسیر: د سُلیمان علیه السلام داسې یو تخت وو، چې په فضا کې الوته، او دی به یې له شام څخه یمن ته او له یمن څخه شام ته رساوه، الله تعالی د سُلیمان علیه السلام لپاره باد تابع او مسخّر کړی وو، نو ځکه د باد په وسیله به یې د یوې میاشتې مسافه په نیمه ورځ کې طی کوله، د «أنبیاء» او د «نمل» په سورتونو کې د دې څه بیان تېر شوی دی، او وروسته له دې نه د «ص» په سورت کې یې بیان راځي.

وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَّعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِاِذْنِ رَبِّهٖ ۭ وَمَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ عَنْ اَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ السَّعِيْرِ ۝۱۲

او (مسخّر کړي مو وو ده ته) له پیریانو هغه څوک چې کار به یې کاوه په مخ د ده کې، په اذن (حکم) د رب د ده، او هر چا چې به څنګ سرکښي وکړه له دوی له امره حکمه ځمونږ (او د سلیمان اطاعت به یې نه کاوه)؛ نو وبه ځکوو مونږ هغه ته (په آخرت کې) له عذاب د اور.

يَعْمَلُوْنَ لَهٗ مَا يَشَآءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ وَتَمَاثِيْلَ وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَقُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ ۭ

جوړوه (دغو پیریانو) دغه (سُلیمان) ته هر هغه شی چې ده غوښت له هسکو (اوچتو) کلاوو، او تمثالونه، او لوی لګنونه په شان د تالاو او (په شان د لویو کلکو) دیګونو پر نغریو پراته.

تفسیر: یعنې لوی لوی مساجد، کلاوې، محلات به یې پر پیریانو تعمیر او ودانول، او مجسمې او تصاویر به یې پر دوی جوړول، چې ممکن په هغه شریعت کې به دغه تصاویر نه وو ممنوع، او یا هم د غیر ذي روح شیانو تصویرونه به یې جوړول، په محمدي شریعت کې مجسمې او تصاویر ممنوع درول شوي دي، او د مسو (ټینو) لوی لوی داسې لګنونه به یې جوړول چې لکه لوی تالاو او حوض به وو، او داسې لوی لوی دیګونه به یې هم جوړول چې له خپل ځای څخه له سره نه خوځېدل، او په هغه خپل ځای کې ځای په ځای باندې کېدل.

اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ شُكْرًا ۭ وَقَلِيْلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ ۝۱۳

(وفرمایل مونږ) عمل کوئ (د نېکیو ای) آل د داوده ! لپاره د شکر، او لږ دي له بندګانو ځما شکر ایستونکي (احسان منونکي).

تفسیر: یعنې ای د داود کورنۍ ! د دغو عظیم الشأنو انعاماتو او احساناتو شکر اداء کوئ، محض په ژبه سره نه بلکه په عمل سره هم داسې کار وکړئ چې له هغو د الله تعالی شُکر ایستل مترشح وي، دغه خطاب د داود علیه السلام کورنۍ او ټبر ته دی، ځکه علاوه پر نورو مستقلو احساناتو پر داود علیه السلام باندې احسان من وجه پر ګردو احسان دی، وایي چې داود علیه السلام د خپل ګردې کورنۍ لپاره داسې د اوقاتو تقسیم جوړ کړی وو، چې د هغه په اساس د شپو ورځو په څلورویشتو ساعتو کې هیڅ یو وخت داسې نه وو چې د ده له کورنۍ څخې به یو نه یو تن د الله تعالی په عبادت کې مشغول او لګیا نه وو.

فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَىٰ مَوْتِهِ إِلَّا دَابَّةُ الْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُ ۖ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَن لَّوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ الْمُهِينِ ﴿١٤﴾

پس کله چې حکم وکړ مونږ پر سُلیمان د موت (او دی مړ ولاړ وو، تکیه پر همسا یو کال) نو هیڅا خبر نکړي نه وو دغه پیریان په مړ ک د دغه (سُلیمان) مګر چنجي د ځمکې (وینو) چې ویې خوړه همسا د ده، پس کله چې ولوېد (سُلیمان پر ځمکه)؛ نو معلوم شو حقیقت دپیریانو که چېرې وی (دغه پیریان) چې پوهېدی په (علم د) غیب؛ نو نه به تېراوه (سلامت یو کال) په تکلیف مشقت سپکوونکي کې.

تفسیر: کله چې سُلیمان علیه السلام پر پیریانو د بیت المقدس په تجدید کې مشغول او لګیا وو، مطلع شو چې ځما د موت نېټه را نژدې شوې ده، نو پر پیریانو یې د خپل ځان لپاره یوه د بلورو داسې مانۍ جوړه کړه چې د هغې منځنۍ سطحه له ورا ښکاره ده، بیا سلیمان علیه السلام په هغې کې ننووت، او دروازې یې پر ځان پسې وتړلې، او لکه چې د دوی عادت وو چې تر څو څو میاشتو پورې به په خلوت کې د الله تعالی په عبادت کې مشغول وو، بیا په داسې یو وضعیت د رب العزّت په عبادت کې مشغول شو، چې د قومې په حالت پر خپله همسا باندې یې تکیه لګولې وه، کله چې پرښتې د دوی روح هم قبض کړ، د دوی مبارک نعش په هم دغه وضعیت ولاړ پاتې وو، او هیڅوک د دوی پر وفات متحسس نه شول، د دوی د وفات څخه وروسته تر ډېر مدّت پورې پیریان په هم هغه شان پخپلو تعمیریه امورو مشغول وو، کله چې تعمیرات سم له سلیماني نقشې سره پای ته ورسېدل، نو د هغې همسا په ښخ کې چې دی د هغه پر موازنه ولاړ وو؛ د لرګي چنجی (وینه) ولګېدل، او هغه یې وخوړه، او دوی ولیدل، نو دلته جنیاتو ته د دوی د غیبي امورو د پوهېدلو حقیقت ورښکاره شو، پر پیریانو باندې معتقدو انسانانو ته هم دغه خبره څرګنده شوه، که دغه پیریان پر غیبیه وو امورو پوهېدی؛ نو څرنګه به په دغه تکلیف کې پاتې کېدل، او لازم وو چې د سُلیمان علیه السلام پر وفات له مطلع کېدلو سره متصله به یې له کاره لاس اخیست، له دې نه دا هم ظاهره شوه چې د شیاطینو او د نورو تسخیر د سُلیمان علیه السلام کسبي کمال نه وو، بلکه محض د الله تعالی فضل وو، کوم انعامات چې پر سُلیمان علیه السلام د ده په ژوندون کې کړی شوي وو؛ دغه د هغه تکمیل شو، چې وروسته د دوی له موت څخه هم تر یوه ضروري حد پورې جاري کېښود شي، او دغه راښوولې شوي دي چې د انبیاوو د شروع کړیو کارو تکمیل الله تعالی په څه تدبیر سره پوره کوي !.

لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ آيَةٌ ۖ جَنَّتَانِ عَن يَمِينٍ وَشِمَالٍ ۖ

خامخا په تحقیق وو خلقو د سبا ته په ځای د هستوګنې د دوی کې یوه لویه نښه چې (هغه لویه نښه) دوه باغونه دي له ښي او کیڼ (طرف د مېنو د دوی).

تفسیر: یعنې د باغونو دوه طویلې سلسلې په ښي او کیڼ لوري اوږدې تر څو میلو پورې پرتې وې، که دوی پوهېدلی؛ نو د الله تعالی د رحمت او د قُدرت همدغه نښه د ایمان راوړلو او شکر ګزار کېدلو لپاره کافي وه.

كُلُوا مِن رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوا لَهُ ۚ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَرَبٌّ غَفُورٌ ﴿١٥﴾

(وویلی شو دوی ته) خورئ تاسې له رزق روزۍ د رب خپل او شکر وباسئ دغه (الله) ته، (دا) بلده ښار دی ډېر پاکیزه او (دغه رب د تاسې) رب دی ډېر بښونکی.

تفسیر: د «سبأ» قوم د یمن بادشاهان او اوسیدونکي وو، الله تعالی پرې لویه مهرباني کړې وه، آرامه زندګي یې تېروله، د ښو باغونو او کښتو خاوندان وو، الله تعالی ورته رسولان رالېږل چې په دې یې ورته حکم کاوه چې د الله تعالی رزق خورئ، او د الله تعالی د نعمتونو شکر وباسئ !، په عبادت کې یې یو وګڼئ !.

دوی تر څه وخته پورې داسې وو چې بیا یې اعراض شروع کړ، د الله تعالی د احکامو څخه یې سرغړونه وکړه، الله تعالی پرې عذاب نازل کړ، سخت سیلاب پرې راغی، او په ښارونو کې تیت او پره شول، دوی ته به د دوو غرونو په منځ کې اوبه راتللې، د بارانونو او سیلابونو اوبه هم ورسره یوځای کېدې چې بیا یې د دغه دوو غرونو په منځ کې یو محکم بند هم جوړ کړ، اوبه په کې د غرونو څنډو ته رسېدې، چې د هغې اوبو نه دوی استفاده کوله، راز راز باغونه یې جوړ کړل چې ډیری خائسته میوی او حاصلات یې کول.

﴿بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَرَبٌّ غَفُورٌ﴾ له رب غفور څخه دغه طرف ته اشاره ده چې ته له خپله جانبه شکر ګزار اوسه ! که د بشریت په مقتضی څه نقص او تقصیر پاتې شي؛ نو الله تعالی پر وړوکو وړوکو خبرو دومره سخت نیول نه کوي، او په خپلې مهربانۍ سره یې معافوي، د ده د نعماوو شکر «کما کان حقّه» د چا له لاسه پوره کېدی شي؟.

فَأَعْرَضُوا فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ وَبَدَّلْنَاهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ أُكُلٍ خَمْطٍ وَأَثْلٍ وَشَيْءٍ مِنْ سِدْرٍ قَلِيلٍ ﴿١٦﴾

پس وګرځېدل (له شکره او له دعوته د انبیاوو اهل د سبأ)؛ پس ومولېږه پر دوی سیلاو د یوه زورور خوړ، او بدل ورکړ مونږ دوی ته په ځای د دوو باغونو د دوی کې دوه باغونه نور خاوندان د مېوو بې مزې ترخو، او د ښوره ګزه (غزانو) او یو قدر له بېرو هم خو ډېر لږ.

تفسیر: یعنې پندونه اونصائح یې په خپلو غوږونو کې ونه نیول، او د حقیقي منعم له شکر ایستلو څخه یې مخ واړاوه؛ نو بیا مونږ دوی باندې د اوبو عذاب ولېږه، او هغه بند ونړېده، او هغه ګرد باغونه، ځمکې تر خړو اوبو او خټو لاندې ډوب شول، او د هغو ښایستوو او خوندورو، اعلی، نفیسو مېوو او ثمراتو په ځای ډېر خراب او ښکته ونې او اغزي او د سوځولو وړ ځنګلونه زرغون شول، دغه ځای ته باغ ویل تش لپاره د مشاکلت دي، او د دغه لږو بېرو او نورو بېکاره ونو د پاتې کېدلو څخه مطلوب تذکر او یادونه ده، څو د هغو پخوانیو په زړه پورې شیونو او ودانیو واقعات له افکارو څخه هېر نشي.

دغه واقعه د عیسی المسیح علیه السلام او محمد صلی الله علیه وسلم په منځ زمانه کې واقع شوې ده، د قدیمه آثارو محققینو په لاس کې د «أبرهه الأشرم» د زمانې یوه لویه کتیبه د سدّ العرم د بقیه دېوال څخه لوېدلې ده چې په هغه د دغه بند د نړېدو پېښه مذکوره ده، مګر دغه غالبًا د دغې واقعې څخه د وروستنۍ زمانې قصه ده، چې د هغې ذکر په قرآن کې مذکور دی، والله أعلم.

ذَٰلِكَ جَزَيْنَاهُمْ بِمَا كَفَرُوا ۚ وَهَلْ نُجَازِي إِلَّا الْكَفُورَ ﴿١٧﴾

دغه (عذاب) جزاء ورکړه مونږ دوی ته په سبب د هغه چې کافران شوي وو، او آیا جزاء ورکوو (یعنې نه ورکوو) مګر ناشکرو ته.

تفسیر: دغه لویه سزا لویو ناشکرانو ته ورکوله کېږي، له کفر څخه بله ناشکري څه ده؟ د «النمل» په سورت کې تېر شو: ﴿وَجَدْتُهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِنْ دُونِ اللَّهِ﴾ (۱۹ جزء (۲) رکوع (۲۴) آیت) ظاهراً دغسې شرک به په دغه قوم کې وروسته له بلقیس څخه پاتې وي.

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا قُرًى ظَاهِرَةً وَقَدَّرْنَا فِيهَا السَّيْرَ سِيرُوا فِيهَا لَيَالِيَ وَأَيَّامًا آمِنِينَ ﴿١٨﴾

او ګرځولي وو مونږ په منځ د دې (اهل د سبأ) او په منځ د کليو ښارونو هغو کې چې برکت اچولی وو مونږ په هغه کې کلي (ښارونه) ښکاره، او په اندازه کړي وو مونږ په هغو کې منازل (د تګ او راتګ) (ومو فرمايل چې) ځئ راځئ په دغو کليو (ښارو) کې د شپې او د ورځې په امان (له هر آفته).

تفسير: برکت والا کلي د شام مملکت دی، يعنې د دوی د ملک ځنې د شام تر ملک پورې ټوله لاره مأمونه او مصونه او ودانه وه، د لارې پر دواړو خواوو د ودانيو او کليو سلسله په داسې اندازه او تناسب سره موجوده وه، چې مترددينو او مسافرانو ته په هر منزل کې ځای په ځای مأکولات او مشروبات ور رسېدل، او د آرامۍ او هوسايۍ ځايونه ور ميسر کېدل، د ودانيو د دغه مقاربت او پرله پسې د يوه ځخه وروسته د بل د ژر ليدلو ځخه به يې فهم غلطېده او ترې توحّش، هيبت او اندېښنه به ورته نه پيدا کېده، او نه د غلو او داړه مارانو ځخه ډار ورته لوېده، ګواکې پر دغو لارو باندې تلل سفر نه، بلکه يو راز تفريحي سير او سياحت وو.

فَقَالُوا رَبَّنَا بَاعِدْ بَيْنَ أَسْفَارِنَا

پس وويل دوی: ای ربه ځمونږ ! لرېوالی پيدا کړه په منځ د منازلو (د سفرو) ځمونږ کې.

تفسير: دغسې به يې د حال په ژبه سره ويلي وي، او ممکن دي چې د قال په ژبه سره يې ويلي وي، چې ای الله ! په داسې صورت سره په منزل او مسافرت کې ځخه مزه او خوند نه وي، که منازل لرې وي، او د لارې په شاوخوا کې ودانۍ نه وي، انسان ته د لوړې او تندې ځخه تکليف وورسېدە؛ نو هلته په مسافرت کې لذت او خوند سړي ته حاصلېدی شي، شاه صاحب ليکي: «په آرامۍ کې دوی مست او مغرور شول، او له ډېرې مستۍ اوس ځان ته تکليف غواړي، لکه چې د نورو ملکونو له احوالاتو ځخه دوی مطلع کېدل، چې هلته په سفر کې اوبه نه پيدا کيږي، د ودانۍ او کلي اثر او پته بيخي نه ښکاري، هم هغسې ښايي چې مونږ هم پخپلو مسافرتو کې وګورو، دغه لويه ناشکري ده، لکه چې بني اسرائيل له «من» او «سلوی» ځخه ماړه او د هوګې او پيازو په فکر کې ولوېدل».

وَظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ فَجَعَلْنَاهُمْ أَحَادِيثَ وَمَزَّقْنَاهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ

او ظلم وکړ دوی پر ځانونو خپلو (چې راحت يې بدل کړ په زحمت) پس وګرځول مونږ دغه (أهل السبأ) قصې افسانې، او تار په تار کړل مونږ دوی په پوره تار په تار کېدلو.

تفسير: يعنې مونږ هغوی تيت پرک کړل، د دوی اکثره خاندان او کورنۍ يو جانب او بل جانب ته کډې وکړې، او منتشر شول، او يو ملک او بل ملک ته لاړل، د دوی د ودانيو نوم او نښه د غلط حرف په شان بيخي د ځمکې له مخ ځخه محو او لرې شوه، اوس تش د دوی قصې پاتې دي، څو يې خلق واوري او ترې پند او عبرت واخلي، د دوی عظيم الشأن تمدّن او شان او شوکت ګرد له خاورو سره ګډوډ شول.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿١٩﴾

بېشکه په دغه (تمزيق د سبا) کې خامخا لوی دلائل (د عبرت) دي لپاره د هر نښه صبر کوونکي ډېر شکر کوونکي.

تفسير: يعنې د دغو حالاتو له اوربدلو ځخه ښايي عقلمن سړی پند او عبرت حاصل کړي !، کله چې الله تعالی ارتوالی عيش او عشرت ور په برخه کړ؛ نو د هغه شکريه دې په نښه شان سره اداء کړي، او که څه تکليف او مصيبت پرې راشي؛ نو د صبر او تحمّل لاره دې غوره کړي !، او له الله تعالی ځخه دې توفيق او مدد وغواړي !.

وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ فَاتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٠﴾

او خامخا په تحقيق رښتيا وموند پر دوی ابليس ګمان خپل، پس متابعت وکړ دوی ټولو د دغه (ابليس) مګر يوې فرقې (چې هغه فرقه ده) د مؤمنانو.

وَمَا كَانَ لَهُ عَلَيْهِم مِّن سُلْطَانٍ إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يُؤْمِنُ بِالْآخِرَةِ مِمَّنْ هُو مِنْهَا فِي شَكٍّ ۗ وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ ﴿٢١﴾

او نه وو دغه (ابليس) ته په دوی څه تسلّط مګر خاص لپاره د دې چې معلوم کړو (په علم الشهود سره هم) هغه څوک چې ايمان راوړي په آخرت له هغه چا څخه چې هغه له دې آخرت څخه په شک کې وي، او رب ستا پر هر څيز باندې ښه ساتونکی دی.

تفسير: يعنې شيطان ته دغسې کوم قوّت او قدرت نه وو حاصل چې لکړه په لاس واخلي، او په زور او جبر سره خلق له سمې لارې څخه منع کړي او ويې ښويوي، هو ! لمسول، غولول او تېرايستل کوي، او دغومره قدرت ځکه شيطان ته ورکړی شوی دی، چې د بندګانو امتحان او ابتلاء هم منظوره وه، څو وکتل شي چې کوم يو پر آخرت يقين لري؟ او د الله تعالى په فکر، ذکر او ياد کې دوام کوي؟ او کوم يو په دنيوي لومه کې نښلي؟ او له خپله انجامه او خاتمې څخه غافله کيږي؟ او له خپله ځانه ناپوهه او بېوقوفه جوړوي؟ يا په چل او فرېب غوليږي، د الله تعالى د حکمت اقتضاء همدغه وه چې په دنيا کې د انسانانو لپاره د دواړو خواوو د تللو لارې خلاصې او ارتې وپرانستلې شي.

قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ ۖ لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِن شِرْكٍ وَمَا لَهُ مِنْهُم مِّن ظَهِيرٍ ﴿٢٢﴾ وَلَا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ عِندَهُ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُ ۚ

ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې وبولئ تاسې هغه معبودان چې ګمان به کاوه تاسې (په دوی د حقيقي معبودانو) غير له الله، چې نه لري دوی اختيار په اندازه د يوې ذرې (نه) په اسمانونو کې، او نه په ځمکه کې، او نشته (دغو معبودانو) د دوی ته په دغو (علويّاتو او سفليّاتو) کې څه شرکت، او نشته دغه (الله) ته له دوی نه هيڅ مددګاره. او نه رسوي هيڅ نفع شفاعت سپارښت په نزد د الله کې مګر (شفاعت) د هغه چا چې اذن ورکړي (الله) هغه ته.

تفسير: يعنې ماسوا الله څخه پر هغو شيانو چې تاسې د معبود ګمان کوئ؛ نو لږ شانې د کوم ضرورت، احتياج او ارتيا په وخت دوی وبولئ ! تر څو وليدل شي چې هغوی تاسې ته څه نفع رسولی شي؟ او څه په کار مو درځي؟ يعنې دغه مسکينان د تاسې څه په کار درځي چې په اسمان او ځمکه کې د يوې ذرې په اندازه هم د مستقل واک او اختيار خاوندان نه دي، بلکه بُتان خو غير مستقل اختيار هم نه لري، نه په اسمان او نه په ځمکه کې دوی څه شرکت لري، نه الله تعالى د کوم کار په انجام کې د بل چا امداد او معاونت ته څه ضرورت لري، چې دوی د هغه معين او مددګار وګرځي، او څه حقوق ځان ته حاصل کړي، د الله تعالى دربار هغه اعلى او ارفع ځای دی، چې خورا ډېر مقربين هم هلته د دغې خبرې طاقت او توان نه لري، چې بې د الله تعالى له اذنه او رضا د چا د شفاعت او سپارښت په نسبت يو حرف هم له خپلې خولې څخه وويستلی شي، د الله تعالى د انبياوو، اولياوو او د پرښتو شفاعت هم يوائې د هغو کسانو په حق کې نافع واقع کېدی شي؛ چې د هغو په نسبت د الله تعالى له خوا د شفاعت اذن او حکم ورکړی شوی وي، او وېره د ملائکو او د شافع او د مشفوع او د اهل المحشر به باقي وي.

حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ ۖ قَالُوا الْحَقَّ ۖ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ ﴿٢٣﴾

تر هغه پورې کله چې پورته کړه شي ويره له زړونو د دوی؛ وايي دوی (په خپلو منځونو کې) چې څه (حکم) وفرمايل رب ستاسې؟ نو وايي دوی چې: حق يې (وفرمايل) او همدغه (الله) ډېر پورته او ډېر لوی دی.

تفسير: دغه يې د پرښتو حال وفرمايه چې تل د ده په دربار کې حاضرې دي، کله چې له پاسه د الله تعالی حکم نازليږي؛ نو داسې غږ پورته کيږي لکه چې پر صافو او ښويو تيږو کوم لوی ځنځير په شدّت سره راوښکودل شي، پرښتې له دهشته او خوفه او رُعبه لړزيږي او په دغه حال کې چې تسبيح کوونکي وي؛ سر په سجده لويږي، کله چې دغه حالت مرفوع شي، او زړونه يې تسکين او آرام وموميږي، او د الملک العلاّم کلام نازل شي؛ نو پرښتې يو له بل څخه پوښتنه کوي چې څه حکم صادر شو؟ پاسنۍ پرښتې ښکتنيو پرښتو ته درجه په درجه د هغه حکم نقل اوروي چې د الله تعالی له حکمته سره سم او موافق او لا له پخوا د هغه قاعده او ضابطه ورته معلومه وي، او هم هغسې حکم صادر شوی وي.

ظاهر دی چې هلته د معقولې او واجبې خبرې څخه ماسوا بل څه شی نشي کېدی، پس هغه لوی ذات چې د ده د علوّ او عظمت داسې کيفيت وي څه وخت چې حکم صادروي؛ نو مقربين د ده د هيبت او جلال په داسې وضعيت او حال مبتلا کيږي، نو هلته به څوک دومره همّت وکړی شي چې په خپل سر د بل چا شفاعت ته ودريږي.

قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ قُلِ اللَّهُ ۙ

ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې څوک رزق درکوي تاسې ته له (جانبه د) اسمانونو او ځمکې؟ ووايه (ای محمده ! د دوی په ځای ته پخپله) چې (خاص رزق راکوي ټولو ته) الله.

تفسير: يعنې له اسمانه او له ځمکې ځنې رزق او روزي د وسائلو او د سامانونو تهيه او برابرول يواځې د هم هغه لوی الله په واک کې دي، چې پر هغه مشرکين هم اقرار کوي، لهذا تاسې وفرمايئ چې: دغه مسلّمه خبره خو تاسې هم راسره منئ؛ نو بيا په الوهيت کې نور شرکاء له کومه شول؟ او بيا داسې هم ورته ووايه: ای محمده ! چې:

وَإِنَّا أَوْ إِيَّاكُمْ لَعَلَىٰ هُدًى أَوْ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾

او بېشکه مونږ (چې مؤمنان يو) او تاسې (چې منکران يئ) خامخا پر سمې صافې لارې کې يو؟ يا په ګمراهۍ ښکاره کې يو؟ (وروسته به معلوميږي).

تفسير: يعنې دغه دواړه فرقې خو رښتيا نه وايي (که نه د نقيضينو اجتماع لازميږي)، يقيناً په دواړو کې يو دروغجن او بل رښتين دی، نو لازم دي چې غور او دقّت وکړئ !، او رښتيا خبره ومنئ !، په دغه کې د هغه ځواب دا دی چې ځينې خلق داسې وايي: «خانه ! د دغو دواړو فرقو په منځ کې له قديمه راهيسې همدغه وضعيت دوام لري، نو په دغه کې د جګړو کولو څه ضرورت دی؟»، او په دغه سره يې دا راوښودل چې يوه فرقه خو هرومرو خطاکاره او بې لارې ده، باقي په تعيين نه کولو د هغه کې يو حکيمانه حسن الخطاب دی، يعنې درواخلئ ! مونږ له خپله جانبه هيڅ نه وايو، تاسو خو په خپله پوهېږئ چې يو جانب هرومرو په غلط ټينګ ولاړ دی، دغه پاس دلائل خو مو واورېدل؛ نو اوس تاسې به له خپله ځانه سره فيصله وکړئ چې کومه يوه پر غلطۍ ولاړه ده؟ ګواکې له مخالف سره په نرمۍ خبرې کوئ، او ورته فرصت او موقع ورکوئ چې په دغه مورد کې په خپل نفس او ځان کې غور او دقّت وکړي.

قُلْ لَّا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّآ اَجْرَمْنَا وَلَا نُسْـَٔلُ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۵﴾ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ ۭ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيْمُ ﴿۲۶﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) وبه نه پوښتېدلی شئ تاسې له هغو بديو چې کړي وي مونږ، او (همداسې) نه به پوښتېدلی کيږو مونږ له هغو بديو چې کوئ يې تاسې. ووايه (ای محمده !) چې جمع به وکړي په منځ ځمونږ کې رب ځمونږ، بيا حکم (فيصله) به وکړي په منځ ځمونږ کې په حق سره، او همدی دی ښه فيصله کوونکی ښه عالم.

تفسير: هر يوه ته لازم دي چې د خپل آخرت فکر او اندېښنه وکړي !، هيڅ يو به د بل د قصور او د غلطی ځواب نه ورکوي، که د داسې صافې خبرې له اورېدلو څخه وروسته بيا هم تاسې پر خپل حال د غور او دقّت کولو لپاره نه تيارېږئ؛ نو په ياد ولرئ چې مونږ پر تاسې د حجّت اتمام کړی دی، او د حق خبره مو دررسولې ده، اوس تاسې به په خپله د خپلو اعمالو ځواب ورکوئ، او پر مونږ هيڅ قسم ذمه واري نه ده عائده، او نه په دغسې يو حالت کې به ځما او ستاسې په منځ کې کومه وسيله او واسطه پاتې وي، د الله تعالی د لقاء او رضاء د حصول لپاره هر يوه ته ښل ښل لازم دي چې د خپلو ځانونو فکر او اندېښنه وکړي، ځکه چې الله تعالی به ګرد مخلوقات سره يو ځای او هر يوه ته به ښله ښله برابره سزا او جزاء سم له عدله او انصافه سره ورکوله کيږي.

قُلْ اَرُوْنِيَ الَّذِيْنَ اَلْحَقْتُمْ بِهٖ شُرَكَاۗءَ

ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې راوښيئ ماته هغه (معبودان) چې پيوست کړي دي تاسې له دغه (الله) سره شريکان؟ (په عبادت کې).

تفسير: يعنې لږ خو يې راوړاندې کړئ ! چې دغه کوم يو موجود دی چې د الله تعالی په الوهيت کې مداخله او مشارکت لري؟ چې مونږ يې هم وګورو چې په هغو کې څه صلاحيت شته؟ او د کومو اختياراتو خاوندان دي؟ آيا تاسو به مونږ ته د تيرو دغه له خپله ځانه توږلې او تراشلي بُتان راوړاندې کوئ؟.

كَلَّا ۭ بَلْ هُوَ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۷﴾

نه ده داسې (او هيڅوک لايق د شرکت نه دي له الله سره)، بلکه همدغه الله دی ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: يعنې له سره به تاسې داسې کوم موجود او هستي نشئ راوړاندې کولی، په دغو اوصافو سره موصوف ذات خو يواځې الله تعالی دی، چې واحد، زبردست، قادر، قاهر، غالب او د اعلی درجې حکمت، قدرت، علم او حکم خاوند دی، او ګرد د هغه په مقابل کې مغلوب او مقهور دي.

وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَاۗفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸﴾

او نه يې لږلی مونږ ته مګر په دې حال کې چې جامع يې خلقو ته زېری ورکوونکی (د جنت مؤمنانو ته) او ويروونکی (له دوزخ کفّارو ته) وليکن اکثر خلق (له کفّارو) نه پوهيږي (په فضائلو ستا او په رذائلو خپلو).

تفسير: دغه يې د توحيد سره د رسالت ذکر وکړ، يعنې ستاسې له بعثت څخه غرض دا دی چې نه يواځې عرب بلکه د دنيا ګرد خلق تاسې له نېکيو او بديو څخه مطلع کړئ چې دغه تبليغ مو تاسې ته وکړ، هغه کسان چې خپل ځانونه يې

پرې نه دي پوهولي؛ دوی پوهيږي، او پوه سړی خو خپله نفع او نقصان سنجوي، او هرومرو ستاسې خبرې مني، هو ! مګر په دنيا کې د جاهلانو او ناپوهانو کثرت دی، د دوی په ماغزو کې چېرې د دې خبرې ځای او ګنجايش شته چې د داسې کاري خبرې قدر وکړي.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٩﴾

او وايي (کفار له ډېره جهله) کله به وي دغه وعده (د عذاب) که چېرې يئ تاسې رښتينې.

تفسير: يعنې له هغې ګړۍ او ساعت څخه چې تاسې مو درګرده وېروئ؛ هغه به کله راځي؟ که دغه خبره رښتيا وي نو ژر يې راوله ! راښکاره يې کړه !.

قُل لَّكُم مِّيعَادُ يَوْمٍ لَّا تَسْتَأْخِرُونَ عَنْهُ سَاعَةً وَلَا تَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٠﴾

ووايه (ای محمده دوی ته) چې (مقرره) ده تاسې ته وعده د يوې ورځې چې نه به وروستی کېږئ له هغې (ورځې) يو ساعت (قدر) او نه ړومبی کېږئ تاسې (ترې).

تفسير: يعنې مه وار خطا کېږئ ! د هغې ورځې د راتګ وعده چې له تاسې سره شوې ده؛ هغه ضرور راتلونکې ده، او کله چې وخت راشي؛ نو د يوې شېبې په اندازه به هم چا ته وار فرصت نه ورکوي، نو د دغه ژر غوښتلو او شور او شر نښلولو په ځای د دغې خبرې فکر تاسې ته ضرور دی، چې د هغه وخت د راتللو څخه پخوا ورته څه تياری وکړئ !.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن نُّؤْمِنَ بِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَلَا بِالَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ

او وايي هغه کسان چې کافران شوي دي: له سره به ايمان رانه وړو مونږ په دې قرآن (چې محمد ته راغلی دی) او نه پر هغه کتابونو چې راغلي دي پخوا له دې (قرآنه).

تفسير: يعنې منکران وايي: مونږ نه قرآن منو او نه نور هغه پخواني کتابونه لکه تورات، انجيل، زبور چې تاسو يې اسماني کتابونه ګڼئ، دغه ګرد سره هم هغه يو ډول او يو شان خبرې کوي، د دوی په هر يوه کې چې وګورئ؛ هم هغه د حساب، کتاب، قيامت، شفاعت، ثواب، عقاب، او د توحيد او رسالت قصې او افسانې دي، حال دا چې بيخي مونږ د دغسې شيانو منونکي نه يو، او نه پرې يقين او باور لرو (العياذ بالله).

وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الظَّالِمُونَ مَوْقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمْ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ الْقَوْلَ

او که ووينې ته (ای محمده په آخرت کې) کله چې دغه ظالمان ودورل شي په نزد د رب د دوی (لپاره د حساب) چې اړوي به ځينې د دوی له ځينو نورو سره خبرې (داسې چې)

تفسير: يعنې هم هغسې چې د مغلوبيت او ناکامۍ په وختونو کې بالعموم داسې پېښې واقع کېږي، چې ناکامان د پرواليو مغلوبۍ اسباب او وسائل يو پر بل اړوي، او يو سړی خپل مسؤوليت پر بل سړي اچوي، همداسې په محشر کې به کفّار يو پر بل خپل بار غورځوي، او غواړي چې مجرم او ملزم يې کړي، چې د هغه تفصيل داسې فرمايي:

يَقُولُ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا لَوْلَا أَنتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ ﴿٣١﴾

وبه وايي هغه (تابعان) چې ضعيف ګڼلی شوي وو هغو (متبوعانو) ته چې تکبّر به يې کاوه چې: که نه وی تاسې (منع کوونکي مونږ لره له ايمانه؛) نو خامخا وو به مونږ مؤمنان (نو خامخا وينې يو کار ډېر سخت، او دغه محذوف د «لو» جواب دی).

تفسير: يعنې هغه کسان چې په دنيا کې له ښکتو طبقاتو ځنې شميرلي کېدل، او د نورو مشرانو متابعت به يې کاوه، دوی به پر خپلو دغو مشرانو او غټانو الزام اړوي، او وايي به چې: مونږ ستاسې له لاسه په دغه غم او مصيبت کې ککړ او اخته شوي يو، که ستاسې لمسون او ممانعت نه وی؛ مونږ به ضرور د انبياوو خبرو ته غوږ ايښود، او په دغه عذاب به نه اخته کيدو.

قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا أَنَحْنُ صَدَدْنَاكُمْ عَنِ الْهُدَىٰ بَعْدَ إِذْ جَاءَكُمْ بَلْ كُنتُم مُّجْرِمِينَ ﴿٣٢﴾

وبه وايي هغه (متبوعان) چې تکبّر به يې کاوه هغو کسانو ته چې عاجزان کړی شوي وو: آيا مونږ منع کړي وئ تاسې له سمې صافې لارې پس له هغه چې راغلی وو (دغه هدايت) تاسې ته؟ (نه دي داسې) بلکه وئ تاسې په خپله مجرمان (کافران).

تفسير: يعنې کله چې تاسې ته حقه خبره ورسېده او پرې وپوهېدئ؛ نو بيا مو هغه ولې ونه منله؟ آيا مونږ په زور سره ستاسې زړونه د ايمان او ايقان له قبوله اړولي وو؟ پر تاسې دغه لازم وو چې په دغه مورد کې مو د هيڅا خبرو ته غوږ نه کېښوده، او هيڅ پروا به مو نه وی کړې، او هرومرو به مو حق قبلولئ، اوس خپله ګناه او جرم نورو ولې غورځوئ؟.

وَقَالَ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا بَلْ مَكْرُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ إِذْ تَأْمُرُونَنَا أَن نَّكْفُرَ بِاللَّهِ وَنَجْعَلَ لَهُ أَندَادًا ۚ

او وبه وايي هغه کسان چې عاجزان ګڼلی شوي وو هغو (رئيسانو) ته چې تکبر به يې کاوه: بلکه دا فريب (ستاسې وو) د شپې او د ورځې کله چې امر به کاوه تاسې مونږ ته (هر وخت داسې) چې کافران شو مونږ پر الله، او پيدا کړو مونږ دغه (الله) ته شريکان.

تفسير: يعنې بېشکه چې تاسې په زوره مونږه نه وو منع کړي، مګر د شپې او د ورځې په مکر او فريب او په غولوونکيو تدابيرو سره مو تېر ايستلي او لمسولي يو، او په هر وخت او په هر ځای کې به ستاسې ښوونه او تلقين مونږ ته همداسې وو، څو مونږ د انبياء الله له ارشاد سره سم الله تعالى په وحدانيت سره ونه منو، بلکه ځينې نور مخلوقات د ده شريک او مماثل وګڼو، آخر تاسې خو پوهېږئ چې ستاسې دغه د شپې او د ورځې دائمي او متوالي ترغيب او تشويق او لمسونې تر کومې اندازې پورې مونږ له لارې څخه بې لارې او پر مونږ يې ډېر بد اثرات غورځولي دي.

وَأَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ ۚ

او پټه به کړي (دغه تابعان اومتبوعان يو له بله) پښيماني خپله کله چې ووينې عذاب.

تفسير: يعنې څه وختې چې دوی له هولناک عذاب سره مخامخ کيږي؛ تابعان او متبوعين دواړه په خپلو زړونو کې افسوسونه او ارمانونه کوي، او هر يو به دغه محسوسوي چې په رښتيا سره زه مجرم او ګناهګار يم، ليکن له شرمه به دغه کيفيت يو بل ته نه څرګندوي، او د شديد خوف او اضطراب لامله امکان لري چې دوی به هم د وينا قوّت او قدرت ونه لري.

وَجَعَلْنَا الْأَغْلَالَ فِي أَعْنَاقِ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ

او وبه ګرځوو ځنځيرونه (د اور) په غاړو د هغو کسانو کې چې کافران شوي دي (تابعان دي که متبوعان).

تفسير: د دوی په غاړو کې به د فولادو غاړکی او په لاسونو او پښو د دوی کې به لوی او غټ ځنځيرونه او زولنې لويدلي وي.

هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٣٣﴾

آيا جزا به ورکوله شي دوی ته (بلکه نه ورکوله کيږي) مګر خو د همدغو (عملونو) چې دوی کول (په دنيا کې).

تفسير: يعنې هر هغه عمل چې مو کړی دی؛ نن هغه د همدغې سزا په شکل در څرګندیږي، نو اوس ورپېژ هغه دانې چې مو کرلي دي.

وَمَا أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَا إِنَّا بِمَا أُرْسِلْتُم بِهِ كَافِرُونَ ﴿٣٤﴾

او نه وو لېږلی مونږ په هيڅ کلي (او ښار) کې هيڅوک ويروونکی (له عذابه) مګر ويل به خوشاله (مارې او مشرانو خلقو) د هغه (قريې) چې: بېشکه مونږ په هغه څه چې رالېږلي شوي يئ تاسې په هغه شي؛ کافران (منکران) يو.

تفسير: په دغه سره رسول الله صلى الله عليه وسلم ته تسلّي او اطمينان ورکړی شوی دی، چې تاسې د معظمې مکې د رؤساوو او غټانو د غاړه غړولو او سرکښۍ څخه مه مغموم او مه خفه کېږئ ! په هره زمانه کې د انبياء الله په مخ کې هم داسې بدبخت رؤساء او مشران په مخالفت سره دريدلي دي، د دولت او ثروت نشه، او د عزت او اقتدار غوښتلو جذبه د انسانانو سترګې ړندوي، او دوی پر دغه باعث کوي چې د هيڅا په مقابل دی ښايي غاړه کښېږدي، او د کشرانو په مجلس کې کېناستل ځان ته عيب وګڼي، نو ځکه د انبياوو ړومبی متبعين به عمومًا هم دغه مسکينان او ضعيفان وو، كما ورد في حديث هرقل.

وَقَالُوا نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٣٥﴾

او ويل به دوی چې: مونږ ډېر يو (له تاسې) له جهته د مالونو او د اولاد، او نه يو مونږ په عذاب کړی شوي.

تفسير: يعنې معلوم شو چې الله تعالى له مونږ څخه راضي او خوښ دی، که نه دومره مال او اولاد به يې مونږ ته ولې راکوو؟ کله چې الله له مونږ څخه خوښ وي؛ نو مونږ د هيڅ يو آفت څخه نه ويريږو، ته چتې مونږ له عذابه ډاروې.

قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ وَيَقْدِرُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٦﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې بېشکه رب ځما پراخوي رزق روزي لپاره د هر هغه چا چې اراده وفرمايي، او تنګوي يې (پر هر هغه چا چې اراده وفرمايي)، وليکن اکثر خلق نه پوهيږي (چې دا استدراج دی).

تفسير: يعنې د رزق وسعت يا ضيقت د الله تعالى د خوښۍ يا د ناخوښۍ دليل له سره نشي کېدی، آيا نه ګورې چې په دنيا کې څومره بد اخلاقان، شريران، دهريان او ملحدان مزې او چرچې کوي، حال دا چې هغو ته هيڅ يو مذهب هم سم نه وايي، او ډېر متقيان مخلصان او د الله تعالى نېک او خالص بندګان ظاهرًا وږي تږي بربنډ دي، نو معلوم شو چې دولت او افلاس، د رزق تزييد يا تقليل د هيڅا د محبوبتوب او مقبولتوب عند الله دليل نه دی، دغه معاملات خو پر نورو هغو مصالحو او حکمتونو مبني دي چې پرې يواځې پاک الله پوهيږي مګر اکثر خلق پر دغه نکته نه پوهيږي.

وَمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُم بِٱلَّتِي تُقَرِّبُكُمۡ عِندَنَا زُلۡفَىٰٓ إِلَّا مَنۡ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا

او نه دي دغه مالونه ستاسې او نه اولاد ستاسې داسې څيز (خصلت هغه خصلت) چې نژدې کوي تاسې په نزد ځمونږ مګر (نژدې کوي له تاسې) هر هغه څوک چې ایمان راوړي او کړي يې وي ښه (عملونه).

تفسير: يعنې د مال او د اولاد کثرت نه د الله تعالى د قرب علامت دى لکه چې په پاس آيت کې تېر شو، او نه د الله تعالى د قرب حاصلولو سبب دى، بلکه بالعکس د کفارو په حق کې د دغو شيانو تزييد او تکثير د دوى د بعد او د لرېوالي سبب ګرځي، هو ! که مؤمنان خپل مال او دولت په خيري امورو کې ولګوي، يا خپل اولاد ته ښه تعليم او تربيه ورکړي، او ښه يې اهل او صالح وپالي؛ نو دغسې مال او اولاد په يوه درجه د الله تعالى د قرب وسيله ګرځي، په هر حال د الله تعالى په دربار کې د مال او د اولاد څخه پوښتنه نه کېږي، بلکه هلته محض د ايمان او د صالح عمل پوښتنه کوي.

فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ جَزَآءُ ٱلضِّعۡفِ بِمَا عَمِلُواْ وَهُمۡ فِي ٱلۡغُرُفَٰتِ ءَامِنُونَ ٣٧

پس دغه (مؤمنان چې دي) شته دوى ته جزاء دوچنده په سبب د هغو (نېکيو) چې کړي دي دوى، او دوى به په مانېيو (د جنت کې مطمئن) مأمون وي (له هر آفته).

تفسير: يعنې پر يوه نېک کار د هومره اجر او ثواب استحقاق چې لري؛ له هغه څخه به زيات بدل وررسېږي، اقلا لس چنده او که زيات وي؛ تر اوه سوه چنده بلکه که الله تعالى اراده وفرمايي؛ له هغه څخه به هم هومره ډېر اجر او ثواب ور په برخه کوي، چې بېحده او بېحسابه وي: ﴿وَٱللَّهُ يُضَٰعِفُ لِمَن يَشَآءُ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ﴾ (د البقرې سورت (۳۶) رکوع، (۲۶۱) آيت دلته له «ضعف» څخه مطلقًا زيادت مراد دى.

وَٱلَّذِينَ يَسۡعَوۡنَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ٱلۡعَذَابِ مُحۡضَرُونَ ٣٨

او هغه کسان چې سعي کوښښ کوي په (ابطال د) آيتونو ځمونږ په دې حال کې چې عاجز کوونکي وي مونږ لره (په زعم خپل) دغه کسان په عذاب (د دوزخ کې) حاضر کړى شوي به وي.

تفسير: يعنې هغه بدبختان چې د الله تعالى د آيتونو تردید کوي، او پر هغو طعنې وهي، او د خلقو مخ له هغوى څنې اړوي، او داسې دعوى کوي چې مونږ الله تعالى او د هغه رسول مغلوب او عاجزوو، دوى ټول به په عذاب اخته کېږي، او د الله تعالى په مخ کې به حاضر کړى شي، او هيڅ يو به له دوى څنې د الله تعالى له نيولو څخه نه خلاصېږي، او نه به چېرې تښتېدى شي.

قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥۚ وَمَآ أَنفَقۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَهُوَ يُخۡلِفُهُۥۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ٣٩

ووايه (اى محمده ! دوى ته) بېشکه رب ځما پراخوي رزق روزي لپاره د هر هغه چا چې اراده وفرمايي له بندګانو خپلو، او تنګوي يې ورته (چې اراده وفرمايي امتحانًا)، او هر هغه څه چې لګوئ يې تاسې (په لاره د الله کې) له کوم شي څخه (ډېر وي که لږ) پس هغه (الله) عوض درکوي د هغې، او همدغه (الله) خير غوره د روزي ورکوونکيو دى.

تفسير: دغه يې مسلمانانو ته اوروڼي دي، هغه مال چې تاسې په خيريه امورو کې لګوئ؛ د هغو د لګولو په وخت له تنګسی او افلاس څخه مه ويرېږئ، له صرف کولو ځنې ستاسې رزق نه کميږي، هغه شی چې تاسې ته مقدّر او مقرر دی؛ هغه هرومرو دررسيږي، الله تعالی په خپل حکمت او مصلحت هر چاته چې د هومره شي د اعطاء اراده وفرمايي؛ ورکوي يې، په هغه کې ستاسې له صرفولو او نه صرفولو څخه هيڅ فرق او توپير نه واقع کيږي، بلکه په خيريه امورو کې د اموالو له لګولو څخه برکت په کې لويږي، الله تعالی د هغه عوض درکوي، اعم له دې چې د مال په صورت وي، يا د قناعت يا د قلبي غناء په شکل وي، په آخرت کې دهغه د بدل در رسېدل خو يو حتمي امر دی.

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَائِكَةِ أَهَٰؤُلَاءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾

او (ياده کړه) هغه ورځ چې (الله ﷻ) ټول به کړي دوی ګرد، بيا به فرمايي (الله) ملائکو ته: آيا دا هغه ګمراهان دي چې خاص تاسې ته (بې له الله) وو (په دنيا کې) چې عبادت به يې کاوه؟.

تفسير: زياتو مشرکانو به پرښتو ته د الله تعالی لونې ويلې، ډېرو مشرکانو به د دغو پرښتو هيکلونه پخپل اټکل سره جوړ کړي وو، او هغو ته به يې عبادت کاوه، بلکه ځينو ليکلي چې: د اصنامو عبادت ابتداء د ملائکو له عبادت څخه شروع شوی دی، او (عمرو بن لُحيّ) دغه قبيح رسم له (شام) څخه (حجاز) ته راوړی دی، په هر حال په قيامت کې د کفارو د اوروڼو لپاره به له پرښتو څخه داسې سوال فرمايي: آيا دغو خلقو به خاص تاسې ته عبادت کاوه؟ ښايي له دې نه به دا مطلب وي چې تاسې خو دوی ته څه نه وو ويلي؟ يا تاسې خو له دوی د دغه عبادت څخه نه يې خوشال شوي؟ لکه چې له مسيح عليه السلام څخه به هم داسې سوال کيږي: ﴿ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ اللَّهِ﴾ (۷ جزء د المائدې سورت (۱۶) رکوع (۱۱۶) آيت)، او په (۱۸ جزء د فرقان سورت په (۲) رکوع (۱۷) آيت) کې راغلي دي: ﴿ءَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ عِبَادِي هَٰؤُلَاءِ﴾.

قَالُوا سُبْحَانَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِمْ ۖ بَلْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْجِنَّ ۖ أَكْثَرُهُم بِهِم مُّؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾

وبه وايي (پرښتې جوابًا) پاکي ده تاته، ته يې مولی (معبود) ځمونږ يې له دوی نه (نه ده داسې چې دغه کفّار وايي) بلکه وو دوی چې عبادت به يې کاوه د پيريانو شيطانانو، او زياتره د دوی پر دغو (پيريانو شياطينو باور کوونکي) او مؤمنان وو (نو منلې به يې خبرې د دوی).

تفسير: يعنې عرض کوي: يا الله ! ستا ذات له دې نه پاک دی چې په کومه درجه څوک درسره شريک شي، العياذ بالله مونږ به ولې داسې خبرې کړو؟ يا له هسې واهياتو حرکاتو څخه به خوښيږو؟ ځمونږ رضا خو ستا د رضا تابع ده، مونږ له دغو مجرمانو سره هيڅ علاقه او واسطه نه لرو، مونږ يواځې خاص ستا فرمان منونکي بندګان او مريان يو، خو سره له دې دغو بد بختانو کله ځمونږ عبادت کاوه، دوی په حقيقت کې ځمونږ په نامه د شياطينو په عبادت کې مشغول وو، في الحقيقت د دوی عقيدتمني او اخلاص له شياطينو سره اختصاص لري، شياطين دوی خپل طرف ته کش کاږي، او د ضلالت په لار يې بالاستمرار بولي، دوی دائمًا د شياطينو په تعقيب روان دي، اګر که ظاهرًا دوی د پرښتو يا د کوم ولي نوم اخلي، مګر په واقع کې پرته له شيطان څخه بل څوک دوی نه مني، بلکه ځينې د دوی په علانيه سره د همدغه شيطان په بندګۍ کې لګيا دي، لکه چې پخوا له دې نه د «الأنعام» د سورت (۱۲) رکوع کې ځمونږ د دغه تفسير دغه موضوع مو په تفصيل سره ليکلې ده.

فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَلَا ضَرًّا ۚ

(نو الله فرمايي) پس نن ورځ نه لري اختيار ځينې ستاسې (معبودان) لپاره د ځينو نورو (عابدانو) نه د نفعې او نه د ضرر.

تفسير: يعنې نن د عابدانو او د معبودانو عجز او ناتواني واضحه شوه، چې هيڅ يو د يوې ذرې په اندازه هيڅا ته څه ګټه او تاوان نشي رسولی، دوی پر هغو معبودانو چې مغرور وو، او هغوی يې د خپلو ځانونو لپاره وسيله او شافع ګرځولي وو؛ نن ورځ هغه معبودان له دوی ځنې خپله بيزاري ښکاره کوي.

وَنَقُولُ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذُوقُوا عَذَابَ النَّارِ الَّتِي كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿٤٢﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالُوا مَا هَٰذَا إِلَّا رَجُلٌ يُرِيدُ أَن يَصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُكُمْ

او وبه وايو مونږ هغو کافرانو ته چې ظلم يې کړی دی: وڅکئ تاسې عذاب د اور هغه چې وئ تاسې چې د دې (اور) تکذيب به مو کاوه (په دنيا کې). او کله چې ولوستلی شي پر دوی آيتونه ځمونږ په دې حال کې چې واضح دي؛ نو وايي: نه دی دغه (محمد) مګر يو داسې سړی دی چې اراده لري د دې چې منع کړي تاسې له هغه شي ځخه چې وو چې عبادت به کاوه پلرونو ستاسې.

تفسير: دغسې به دوی د رسول کريم صلى الله عليه وسلم په نسبت په خپلو منځو سره ويل چې: دغه سړی خو نه رسول او نه نبي دی، او فقط هم دغومره مقصد لري چې مونږ ځمونږ د پلرونو او نيکونو له هغه طريقې ځخه جدا کړي چې له قديمه راهيسې مونږ ته پاتې دی، او مونږ يې حق ګڼو، او مونږ خپل دين او طريقې ته کش کوي، او په دغه وسيله سره خپل ځان حاکم او متبوع او مونږ محکوم او تابع وګرځوي، ګواکې دی يواځې خپل حکومت او رياست غواړي (العياذ بالله).

وَقَالُوا مَا هَٰذَا إِلَّا إِفْكٌ مُّفْتَرًى

او وايي دغه (منکران) چې نه دی دغه (قرآن) مګر يو دروغ دی له خپله ځانه جوړ کړی.

تفسير: يعنې دغه چېرې قرآن دی (العياذ بالله)، بلکه د ځو دروغو خبرو مجموعه ده، چې د هغه نسبت الله تعالى ته کاوه شي.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٣﴾

او وايي هغه (منکران د مکې) چې کافران شوي دي حق (قرآن ـ اسلام ـ نبوّت) ته کله چې راغی دوی ته: نه دی دغه مګر خو دی سحر کوډې ښکاره.

تفسير: يعنې دغه د نبوت دعوی چې د هغه د ځو معجزو او خوارقو ښوونه هم کړی شوې ده، يا د اسلام دين چې په خپل نزول سره يې دمېړه او ښځې او ځوی او پلار په منځ کې بېلتون او تفرقه اچولې ده، يا قرآن چې د هغه له فوق العاده تأثيره د خلقو په زړونو کې فوق العاده اثرات او انفعالات پيدا کيږي، د صريح جادو او ښکاره کوډو او سحر ځخه ماسوا بل شی نه دی (العياذ بالله).

وَمَا آتَيْنَاهُم مِّن كُتُبٍ يَدْرُسُونَهَا وَمَا أَرْسَلْنَا إِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِن نَّذِيرٍ ﴿٤٤﴾

حال دا چې نه دي ورکړي مونږ دوی ته له کتابونو (منزله وو ځخه) چې لولي دوی هغه (کتابونه)، او نه وو ليږلي مونږ دوی ته پخوا له تانه کوم ويرونکی (له جحيمه).

تفسير: يعنې محض امي وو، نه کوم سماوي کتاب د دوی په لاس کې وو، نه په دومره اوږد مدّت کې کوم نبي په دوی کې مبعوث شوی وو، الله تعالى په دوی کې داسې عظيم الشأن رسول مبعوث او داسې جليل القدر قرآن يې

ورولېږه، چې دواړه يې عديم النظير او بېمثاله دي، نو پر دوی لازم وو چې دوی به دغه نعمت غنيمت ګڼلې !، او د الله تعالی د دغه انعام او احسان به يې زيات قدر کاوه !، خصوصًا چې دوی به پخپله پخوا له دې نه داسې ويل: «که په مونږ کې کوم نبي مبعوث شوی وی، يا پر مونږ کوم اسماني کتاب نازلېدی؛ نو مونږ به هغه مانه، او په اطاعت کې به مو له نورو څخه زياته جلتي او مسارعت کاوه»، اوس چې هغه مقصود مطلوب وررسېدلی دی؛ نو دوی د هغه په مقابل کې استکبار او انکار کوي.

وَكَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَمَا بَلَغُوا مِعْشَارَ مَا آتَيْنَاهُمْ فَكَذَّبُوا رُسُلِي فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٥﴾

او تکذيب کړی وو (د انبياوو هم داسې) هغو کسانو چې پخوا وو له دوی، حال دا چې نه دي رسيدلي (دغه کفّار د مکې) لسمې برخې د هغه شي ته چې ورکړی مو وو هغوی ته (له قوّت او قدرت)، پس تکذيب وکړ (هغو پخوانيو) د رسولانو ځما، پس څرنګه وو انکار ځما (په عذابولو د هغو).

تفسير: يعنې هم هغسې اوږده عمرونه، جسماني قوّتونه، مال، دولت، او عيش عشرت چې هغوی ته ورکړی شوی وو؛ د هغه عشر العشير هم تاسې ته نه دی درکړی شوې، نو هر کله چې هغوی له خپلو انبياوو سره مخالفت او د هغوی تکذيب ته ودرېدل؛ نېه وګورئ چې د هغوی آخره خاتمه څرنګه شوه؟ او د هغوی ګرد ساز او سامان څنګه بېکاره پاتې شو؟ او د الله تعالی منزل عذاب د يوې شېبې له مخې هم معطل نه شو، او نه يې چا مخه ونيوی شوه، نو بيا تاسې پر څه مغرور او د څه لپاره دومره لويي او ځانمني (غرور) کوئ؟.

قُلْ إِنَّمَا أَعِظُكُم بِوَاحِدَةٍ أَن تَقُومُوا لِلَّهِ مَثْنَىٰ وَفُرَادَىٰ ثُمَّ تَتَفَكَّرُوا مَا بِصَاحِبِكُم مِّن جِنَّةٍ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَّكُم بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿٤٦﴾

ووايه (ای محمده ! منکرينو ته) بېشکه همدا خبره ده چې پند درکوم تاسې ته په يوې خبرې سره چې ودرېږئ تاسې خاص الله ته دوه دوه او يو يو، بيا نېه فکر (او غور) وکړئ چې نشته په دغه ملګري ستاسې کې هيڅ قسم لېونتوب، نه دی دغه (محمد) مګر ويروونکی دی تاسې ته په مخ کې د عذاب سخت (د قيامت).

تفسير: يعنې تعصّب او عناد پرېږدئ ! په انصاف او اخلاص سره د پاک الله په نامه سم ودرېږئ !،او څو څو تنه سره يو ځای شئ !، او پخپلو منځونو کې سره مباحثه، مرکه، مشوره او جرګه وکړئ !، او يوائې له خپلو ځانونو سره هم بېل کېنئ، او نېه فکر، دقّت او غور وکړئ !، چې ستاسې دغه رفيق محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم چې له څلويښتو کلونو څخه ډېر ستاسې تر نظر لاندې حيات او ژوندون کوي، او تاسې د هغه د ګردو حالاتو او له ذرې ذرې خصوصياتو څخه يې د طفوليت تر کهولت پورې کامل خبردار يئ، او د ده پر امانت، ديانت، صداقت، عفاف او پوهې تل ترتله قائلان يئ، او نېه پوهېږئ چې دی هيڅکله په هيڅ يوه معامله کې په نفسانيت، اغراض او نورو بدو خبرو او اخلاقو ملزم او مشبوه نه دی ګرځېدلی، نو آيا تاسې په واقعي ډول سره اوس داسې اټکل او ګمان پرې کولی شئ چې دی (العياذ بالله) بې له کومو موجبه اسبابو يو ناڅاپه لېونی شوی دی؟ او بې سببه يې ځينې خلق له خپله ځانه سره دښمنان او مخالفان ګرځولي دي؟.

قُلْ مَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ

ووايه (ای محمده ! دوی ته) هر هغه څه چې وغوښتل ما له تاسې له اجرته (په دغه انذار)؛ پس هغه دې هم ستاسې وي، نه دی اجر ځما مګر پر الله دی.

تفسير: يعنې زه د خپل محنت څه صله له تاسې څخه نه غواړم، که ستاسې په خيال کې داسې راغلي وي چې زه به له تاسې ځنې څه معاوضه غواړم؛ نو هغه ټول تاسې له خپله ځانه سره وساتئ !، بيخي هغه ته څه ضرورت نه لرم، ځما صله خو د الله تعالى په دربار کې ده، هغه شى چې زه يې له تاسې څخه غواړم يعنې ايمان او اسلام؛ هغه ستاسې د فائدې او ګټې لپاره دى، له دې نه پرته په دغه دعوت او تبليغ کې ځما څه غرض او مقصد نشته.

وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿٤٧﴾

او همدغه (الله) پر هر شي باندې ښه شاهد (خبردار دى).

تفسير: يعنې ځما رښتيا او صداقت او نيت الله تعالى ته معلوم او ښکاره دى.

قُلْ إِنَّ رَبِّي يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ۚ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿٤٨﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) بېشکه رب ځما ويشتل کوي (رالېږي) حق (دين)، ښه خبردار دى پر ټولو اشياوو هم.

تفسير: يعنې له پاسه وحي نازلېږي، او د دين باران اوري، دغه موقع ويږيا له لاسه مه ورکوئ !، او ترې ښه ګټه او فائده واخلئ !، په هغه زور او قوت سره چې پاک الله د باطل په سر ويشتل کوي او لرې يې غورځوي؛ له هغه ځخه اندازه وکړئ چې وروسته له دې نه به باطل چېرې ودرېدى شي؟ ضرور دي چې باطل محو او په سوړو کې ننوځي، او په ټولو آفاقو کې به د حق دين غږ ډېر پورته شي، هغه علاّم الغيوب پخپل علم او پوهې سره موافق په ډېر مناسب وخت او عين الموقع کې د باطل د سر د ټکولو او لتاړولو لپاره حق نازل کړ: ﴿بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ﴾.

قُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ ﴿٤٩﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) راغى حق (قرآن ـ اسلام) او نشي پيدا کولى باطل (معبودان هيڅ شى)، او نه يې بيا له سره ژوندي راپاڅولى شي.

تفسير: يعنې حق دين راورسېد، هغه زور او قوت له سره منع کېدونکى نه دى، او حتمًا او جزمًا غالب او مظفرېږي، او باطل لاندې او ښکته کوي، دروغ کله د رښتيا په مقابل کې چلېدى شي؟ او باطل څرنګه د حق په مقابل کې راتلى شي؟ هغه اوس نه د درېدلو قوت او توان لري او نه د تښتېدلو، او داسې يې وګڼئ چې لکه له منځه ورک او تري تم شوى وي، دغه د ﴿جَاءَ الْحَقُّ﴾ آيت د معظمې مکې د فتحې په ورځ د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر مبارکه ژبه جاري وو.

قُلْ إِنْ ضَلَلْتُ فَإِنَّمَا أَضِلُّ عَلَىٰ نَفْسِي ۖ وَإِنِ اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوحِي إِلَيَّ رَبِّي ۚ إِنَّهُ سَمِيعٌ قَرِيبٌ ﴿٥٠﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) که چېرې وښوييدم زه (له سمې لارې په زعم ستاسې)؛ پس بېشکه همدا خبره ده چې وبه ښوييږم په (ضرر د) ځان خپل (او ځما نقص دى)، او که سمه لاره مې وموندله؛ نو په سبب د دې به وي چې وحي کوي ماته رب ځما، هم هغه (الله) ښه اورېدونکى دى، ډېر رانژدې دى.

تفسير: يعنې که ما دغه نوى دستور له خپله ځانه درولى وي؛ نو تر څو ورځو پورې به وچليږي؟ په دغه کې بالآخر ماته نقصان راپېښېږي، دنيوي بغض او عداوت به ځان ته ګټم، خواري، زحمت، او ذلت به پر ځان اخلم، اخروي رسوايي

به پر ځان ګالم (العياذ بالله)، ليکن که زه پر سمه لاره يم لکه چې په واقع سره هم په سمه صافه لاره روان يم؛ نو ښه وپوهېږئ چې دغه ګرد د الله تعالى تاييد او امداد، او د اسماني وحي مرسته، برکت او هدايت دی، چې هيڅکله او هيڅهرې به ځما ملګرتوب نه خوشې کوي، او تل ترتله به له ما سره وي، ځما پاک الله هر شی اوري، او هغه بيخي رانژدې دی، هغه به همېشه له ما سره الطاف او امداد فرمايي، او خپل دغه پيغام هرومرو ګردې دنيا ته رسوي، او پر ټولو مخلوقاتو يې ظاهر او څرګندوي (ښکاره کوي)، اعم له دې نه چې تاسو يې ومنئ، او که يې ونه منئ.

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ فَزِعُوا۟ فَلَا فَوْتَ وَأُخِذُوا۟ مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٥١﴾

او که ووينې ته کله چې وويريږي دوی (عند النزع) پس نه به خلاصيږي په تېښته (له عذابه ځمونږ)، او وبه نيول شي دوی له ځايه نژدې (له ځمکې قبر ته يا له موقفه اور ته).

تفسير: يعنې کفّار خو دلته خپل لويي، تکبر او غرور ښکاره کوي، مګر هغه وخت به د ليدلو وړ او قابل وي چې دغه خلق د محشر ويروونکي مناظر او لړزوونکي مظاهر وګوري اوسخت وويريږي، او د تېښتېدلو په فکر کې ولويږي، مګر د تېښتې لورې ترې ورک وي، او هيڅهرې به ونشي خوځېدلی، کله چې د دوی د نيولو او په اور کې د غورځولو حکم صادر شي؛ نو دوی بې له لټولو او دغې خوا او هغې خوا کتلو څخه سمدلاسه هم هغلته پيدا کيږي، بلکه په نهايت آسانۍ سره علی الفور د حکم د اصدار سره متصل او جوخت نيولی کيږي او د خپلو اعمالو په سزا (هيداد) اخته کيږي.

وَقَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِهِۦ ۖ وَأَنَّىٰ لَهُمُ ٱلتَّنَاوُشُ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾

او وبه وايي (دا کفّار) ايمان مو راوړی دی پر دغه (الله)، او له کومه به وي دوی ته حاصلول او لاس ته راوړل (د ايمان يا بېرته ګرځېدل دنيا ته) له ځايه لرې (چې آخرت دی).

تفسير: يعنې په دغه وخت کې به وايي چې: اوس مو باور د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر خبرو راغی، او اوس ايمان راوړو، حال دا چې د اوس ايمان به څرنګه وي؟ هغه وخت او موقع ډېره لرې لاړه چې ايمان راوړل مفيد او نافع او د نجات وسيله واقع کېده، اوس د دوی لاس تر دومره لرې ځای پورې چېرې رسېدی شي؟ چې له هغه ځايه د خپل ځان لپاره ايمان راوړي، مطلب يې دا دی چې مقبول او منجي ايمان هغه دی چې پخوا له مرګه په همدغې دنيا کې د انسان په برخه شي، په آخرت کې کله چې ګرد احوال ګرد سړي پخپلو سترګو سره وګوري؛ نو هلته ګرد متيقين کيږي، نو هلته به د ايمان راوړولو څه فائده وي؟.

وَقَدْ كَفَرُوا۟ بِهِۦ مِن قَبْلُ ۖ وَيَقْذِفُونَ بِٱلْغَيْبِ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٣﴾

او په تحقيق کافران شوي وو په الله پخوا له دې نه (په دنيا کې)، او ويشتل به کول دوی په غيب له ځايه لرې (د حق، صدق، او د صواب پر امورو د معاد).

تفسير: يعنې پخوا له دې نه چې د ايمان راوړلو وخت وو؛ تاسې پر کفر او انکار ټينګ ولاړ وئ، او همداسې په خپل خيال او اټکل سره مو نښې ويشتلې، د دنيا په ژوندون کې به مو تل بې تحقيقه خبرې کولې، او رښتيا او محققې خبرې به مو هيڅ نه منلې، اوس د افسوس او ارمان څخه هيڅ شی په لاس نه درځي.

وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ

او پرده (جدايي) به واچولی شي په منځ د دوی او په منځ د هغه شي چې ارمان يې کوي دوی (لکه ايمان او اعاده الى الدنيا).

تفسير: يعنې د هغو شيانو په نسبت چې دوی يې هيله او ارمان لري، مثلاً مقبول ايمان يا نجات يا د دنيا په لوري ببرته ورتګ، دنيوي لذائذ، عيش او آرام؛ د دغو شيانو او د کفارو په منځ کې به سخت سد او مانع وي، چې د هغه لامله به دوی له سره تر هغې پورې نشي رسېدی.

كَمَا فُعِلَ بِأَشْيَاعِهِم مِّن قَبْلُ إِنَّهُمْ كَانُوا فِي شَكٍّ مُّرِيبٍ ﴿٥٤﴾

لکه چې کړی شوی وو (دا کار) له سيالانو د دوی سره پخوا له دې نه، بېشکه هغوی وو په داسې شک کې چې ډېر تردّد اچوونکی وو (خلقو ته).

تفسير: يعنې ړومبی له دې نه له هغو مخلوقاتو سره چې د همدوی په وضعيت او هيئت تېر شوي دي کومه معامله چې کړی شوې ده؛ له دوی سره هم هغه معامله وکړی شوه، ځکه چې هغو خلقو به هم داسې مهملې او بې ځايه شبهې کولې، او په داسې بې موردو شکوکو او ترديداتو کې اخته وو، چې دوی يې له سره مطمئن او په آرام نه وو پرې ايښي.

تمت سورة سبأ بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه، وله الحمد.

سُورَةُ فَاطِرٍ

«د (فاطر) سورت مکي دی، (۴۵) آيتونه او (۵) رکوع لري، په تلاوت کې (۳۵) او په نزول کې (۴۳) سورت دی، وروسته د (الفرقان) له سورت څخه نازل شوی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

ټوله ثناء صفت خاص (هغه) الله ته ده چې بې له نمونې څخه پيدا کوونکی دی د اسمانونو او د ځمکې.

تفسير: يعنې اسمان او ځمکه يې ابتداء له عدم څخه وجود ته راوړه، حال دا چې له پخوا څخه د دغو علويّاتو او سفلياتو کوم نمونه يا د تخليق قانون نه وو موجود.

جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا

ګرځوونکی د پرښتو دی رسولان.

تفسير: يعنې ځينې پرښتې انبياوو ته د الله تعالی پيغام رسوي، او ځينې نورې دنورو جسماني او روحاني نظام پر تدابيرو او تشکيلاتو مأموراني دي: ﴿فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا﴾.

اُولِيٓ اَجْنِحَةٍ مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ

(هسې ملائکې) چې خاوندانې د وزرو دوو دوو، او دريو دريو، او څلورو څلورو دي.

تفسير: يعنې د ځينو پرښتو دوه دوه وزرونه، او د ځينو دري دري او د ځينو څلور وي، د دغو وزرو کيفيت يواځې پاک الله ته معلوم دی.

يَزِيْدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَآءُ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ①

زياتوي (الله) په پيدايښت کې هومره چې اراده وفرمايي (د هغو)، بېشکه چې الله پر هر شي باندې ښه قادر دی (چې ځينې يې دغسې تزييد او تخليق دی).

تفسير: يعنې الله تعالی په هر مخلوق کې هر عضو او صفت سم له خپله حکمته سره زياتوي، پرښتو ته دوه دوه يا دري دري يا څلور څلور وزرونه هم هغه ور پيدا کړي دي، که اراده وفرمايي؛ نو ځينو پرښتو ته له څلورو ځنې زيات هم ورکوي، لکه چې په حديث کې راغلي دي: چې جبريل عليه السلام شپږ سوه وزرونه لري، او له ﴿جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا﴾ څخه داسې ونه ګڼله شي چې ګوندې الله تعالی دغو وسائلو ته څه ضرورت او احتياج لري !، پاک الله دغسې وسائطو

ته بيخي څه اړتيا (احتياج) او ضرورت نه لري، او بالذات دی پر هر څيز باندې ښه قادر او مقتدر دی، ولې محض د حکمت او مصلحت لپاره يې د دغو اسبابو او وسائطو سلسله قائمه کړې ده.

مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۚ

هر هغه شی چې پرانيځي الله لپاره د خلقو له رحمت خپل (لکه صحت وسعت) پس نشته هيڅوک بندوونکی د هغه.

تفسير: رحمت جسماني وي لکه باران، روزي اونور، يا روحاني وي لکه انزال دکتابونو او ارسال د رسولانو، الغرض هر کله چې الله تعالی پر خلقو د خپل رحمت ورونه وپرانيځي؛ نو څوک يې ترلی شي؟.

وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُ مِنْ بَعْدِهِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝٢

او هر هغه شی چې بند کړي (له عطاء خپلې)؛ پس نشته ليږونکی د هغه (هيڅوک) پس له بندولو د الله، او همدی دی ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: يعنې سم له خپله بالغه حکمته سره د هر شي د کولو او په وجود راوړلو اراده چې وفرمايي؛ على الفور يې کوي، او داسې قوي، مقتدر، غالب او زبردست ذات دی، چې هيڅوک د ده دارادې مخه نشي نيولی.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۚ هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللّٰهِ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۚ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ۝٣

ای خلقو ! ياد کړئ نعمت احسان د الله پر تاسې (چې حيات او روزي او نور يې درکړي دي)، آيا شته بل کوم پيدا کوونکی بې له الله چې تاسې ته روزي درکړي له اسمانونو (په سبب د باران) او (له محصولاتو د) ځمکې نه (په سبب د زرغونولو؟ بلکه نشته داسې څوک)، نشته لايق د عبادت بل هيڅوک مګر همدی دی، پس له کوم جهته ګرځولی کيږئ (له توحيده شرک ته).

تفسير: يعنې تاسې دغه ټول سره منئ چې پيدا کول او د روزي د وسائلو او اسبابو برابرول، ژوندي ساتل او نور ګرد د الله تعالی په قبضه او اختيار کې دي، نو بيا د معبوديت استحقاق بل شي ته له کومه پيدا شو؟ هر هغه ذات چې حقيقي خالق او رازق دی، واقعي معبود او لوی الله هم هغه دی.

وَإِنْ يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ ۚ وَإِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ۝٤

او که دروغجن وشمېري (دغه کفار ای محمده !) تا؛ پس په تحقيق دروغجن شمېرل شوي وو ډېر رسولان پخوا له تانه (نو ته هم صبر کوه په شان د هغو)، او خاص الله ته بېرته ګرځولي شي ټول کارونه (په آخرت کې).

تفسير: يعنې سره له دومره پوهولو او د حجّت د تمامولو بيا هم دغه خلق تاسې دروغجن ګڼي، نو تاسې په دغه سره مه غمجن کېږئ !، ځکه له نورو پخوانيو انبياوو سره همداسې رويه او سلوک کړی شوی دی، دا کومه نوې خبره نه ده، متعصبينو او معاندينو هيڅکله له خپله ضده او عناده لاس نه دی اخيستی، د دغسې خلقو معامله پاک الله ته وسپارئ، کله چې دوی په آخرت کې الله تعالی ته بوتلل شي؛ نو الله تعالی به د دغو ګردو جګړو فيصله صادروي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ۝٥ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ۚ إِنَّمَا يَدْعُوا۟ حِزْبَهُۥ لِيَكُونُوا۟ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ۝٦

ای خلقو ! بېشکه وعده د الله حقه ده (چې قیامت حساب کتاب جزاء شته) پس خبردار چې نه دې تېرباسي تاسې دغه ژوندون لږ خسیس، او نه دې تېرباسي تاسې په (کرم د) الله غره کوونکی (شیطان). بېشکه چې شیطان تاسې ته دښمن دی پس تاسې هم ونیسئ دی (خپل) دښمن، بېشکه همدا خبره ده چې بولي شیطان ډله خپله (ځای د هلاکت ته) لپاره د دې چې شي دوی له ملګرو د دوزخ (په آخرت کې).

تفسیر: یعنې قیامت هرومرو راتلونکی دی، او علی الیقین ټول مخلوقات د پاک الله په مخ کې حاضریدونکي دي، د دغې دنیا پر عیش، باغ او بهار ډېر مه غولېږئ، او د شیطان په چلونو او فرېبونو مه تېروځئ !، ځکه چې دی ستاسې ازلي دښمن دی، او دی تل په همدغه کوښښ کې دی چې تاسې هم له خپله ځانه سره په دوزخ کې وغورځوي.

ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ۝٧ أَفَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ فَرَءَاهُ حَسَنًا ۖ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ۖ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَٰتٍ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ ۝٨

هغه کسان چې کافران شوي دي شته دوی ته عذاب سخت، او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه)؛ شته دوی ته مغفرت، ښښه او اجر ډېر لوی. آیا پس هغه څوک چې ښایسته کړی شوی وي ده ته بد عمل د ده، پس ویني یې دی ښایسته، پس بېشکه چې الله ګمراه کوي هر هغه څوک چې اراده وفرمایي (د ګمراهۍ یې)، او سمه صافه لاره ښیي هر هغه چاته چې اراده وفرمایي (د هدایت یې)، پس نه دې ځي (نه دې هلاکیږي) نفس ستا په (ګمراهۍ) د دوی له جهته د افسوسه، بېشکه چې الله جل جلاله ښه عالم دانا دی په هغو کارونو چې کوي یې دوی (نو جزاء به ورکړي دوی ته).

تفسیر: یعنې شیطان چې د هر چا په سترګو کې خراب کار ښه ورځرګند کړي، آیا دغه سړی له هغه چا سره برابر کېدی شي چې د الله تعالی په فضل او کرم سره د خیر او شر په منځ کې فرق اوتمیز کولی شي؟ نیکي نیکي بولي، او بدي بده ګڼي، کله چې دوی دواړه سره نشي برابرېدی؛ نو د دغو دواړو آخره خاتمه او انجام به څرنګه برابرېدی شي؟ او داسې خیال مه کوئ چې کوم انسان به سره د خپلو رنړو سترګو پر بدو ځنګه د ښو ګمان وکړي، د الله تعالی اراده د هر چا په نسبت چې د ده د سوء الاختیار په بناء په ګمراهۍ او ضلالت تللې ده؛ هغه سمې لارې ته څوک نشي اړولی، او هر چا ته چې د ده د حسن الاختیار د سببه سمه صافه لاره ښیي؛ نو له سره د شیطان له واکه دغه نه دي پوره چې دی له سمې لارې څخه بې لارې کړي، یا نامناسبه ښوونه ورته وکړي.

په هر حال هغه سړی چې په شیطاني اغواوو سره بدو ته ښه او ښو ته بد وایي؛ د ده په نسبت داسې توقع نشي کېدی چې ګوندی دی به پر سمه صافه لاره راشي، کله چې دغسې نشي کېدی، او د هدایت او د ضلالت ټوله سلسله د الله تعالی د مشیت او حکمت تابع ده؛ نو تاسې د دغو معاندینو په غم او اندېښنه کې خپل ځان مه ویلي کوئ !، او مه په دوی پسې کړېږئ !، الله تعالی ته د دوی ګرد اعمال او احوال ښه معلوم او ښکاره دي، او بالذات له دوی سره حساب او کتاب کوي، او د دوی په نسبت خپله لازمه فیصله صادروي، تاسې مه خفه او مه غمجن کېږئ !.

وَاللّٰهُ الَّذِیْٓ اَرْسَلَ الرِّیٰحَ فَتُثِیْرُ سَحَابًا فَسُقْنٰهُ اِلٰى بَلَدٍ مَّیِّتٍ فَاَحْیَیْنَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ كَذٰلِكَ النُّشُوْرُ ۝

او الله هغه (مطلق قادر) ذات دی چې لیږلي یې دي بادونه، پس راپورته کوي (بادونه) ورېځې، پس راکاږو مونږ دغه ورېځې هغه کلي (ځمکې) مړې (وچې کلکې بې وښو) ته، پس ژوندی کوو مونږ په هغو (اوبو) ځمکه پس له مړوالي (وچوالي) د هغې، همداسې به وي حال د بیا ژوندي پورته کېدلو هم.

تفسیر: یعنې د الله تعالی په حکم د هواوو په وسیله ورېځې پورته شوې، او په هغې سیمې رقبه کې چې مړه وچه کلکه پرته وه، یعنې هیڅ واښه او شینکي په کې نه وو، او له هرې خوا یې دوړې او غبار پورته وو، د باران د اوبو له سببه په کې ساه ولوېده، همداسې وکړئ چې الله تعالی به تاسې هم وروسته له مرګه بیا راپاڅوي، په روایاتو کې راغلي دي: «څه وخت چې الله تعالی د مړیو د بیا ژوندي راپاڅولو اراده وفرمایي؛ نو له ما تحت العرش څخه به یو مخصوص قسم باران واوروي، چې د دغه باران په اوبو سره به ټول مړي داسې ژوندي راپاڅېږي لکه چې د پسرلي د معمولي باران په اثر پتنګان او نور مچان او خوځندې د ځمکې له سوریو څخه ووځي» ښایي چې مزید تفصیلات یې په روایاتو کې ولیدل شي.

مَنْ كَانَ یُرِیْدُ الْعِزَّةَ فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِیْعًا ؕ

هر هغه څوک چې وي چې اراده لري د عزّت پس خاص الله ته دی عزّت ټول.

تفسیر: یعنې کفارو نور معبودان ځکه د خپلو ځانونو لپاره نیولي وو، چې ګوندې د دغو معبودانو د الله تعالی په دربار کې ډېر عزّت او پت وي: ﴿وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لِّیَكُوْنُوْا لَهُمْ عِزًّا﴾ (۱۶ جزء، د مریم سورت (۵) رکوع (۸۱) آیت)، او ډېرو کسانو له مسلمانانو څخه مخ اړولی وو، اوله کفارو سره یې خپله دوستي او خپلوي ټینګه کړې وه؛ څو په دغه وسیله سره دوی پتمن او باعزّت شي: ﴿اَلَّذِیْنَ یَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِیْنَ اَوْلِیَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِیْنَ ؕ اَیَبْتَغُوْنَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِیْعًا﴾ (۵ جزء د النساء سورت (۲۰) رکوع (۱۳۹) آیت)، نو دغه قسم خلقو ته یې دغه وروښودل چې هر هغه انسان چې د دنیا او آخرت عزت غواړي؛ ښایي چې دغه عزّت د الله تعالی څخه وغواړي چې مطلق عزیز همدی دی، او د الله تعالی له اطاعت او یادولو څخه اصلي پت او عزّت میسّر کیږي، د ګردو اعزازونو مالک همغه واحد احد الله دی، هر هغه څوک چې عزّت مومي، یا یې موندلی دی؛ د همدغه الله له خزائنو څخه ورته رسېدلی دی، یا به وروررسیږي.

اِلَیْهِ یَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّیِّبُ

خاص همدغه (الله) ته پورته خیژي خبرې پاکې.

تفسیر: یعنې پاکیزه کلام ذکر الله، دعاء، د قرآن تلاوت، دعلم او نصیحت خبری دي، چې دغه ګرد شیان رب العزّت ته ورخیژي، او د قبول عزّت حاصلوي.

وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ یَرْفَعُهٗ ؕ

او نېک عمل پورته کوي ذکر او ښې خبرې.

تفسیر: د پاکیزه وو کلامونو (ذکر الله) او نورو ذاتي اقتضاء همدا ده چې پاس وخیژي، له هغه سره که نور صالح اعمال وي؛ نو د هغه په طفیل او وسیله هغوی هم پاس ورخیژي، او هغه ته زیات قوت، نشاط، تازګي، رفعت او عظمت ښېي،

ښه کلام ته بې له ښو کارونو پوره د رفعت شان نه حاصليږي، ځينې مفسرين د ﴿وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ﴾ د ضمائرو مرجع سره بدلوي، او داسې معنی ترې اخلي چې: ښه کلام ښه کار لوړ او پورته کوي، دغه هم دُرست دي چې ځينو خلقو د (رفع) ضمير د الله تعالی په لوري اړولی دی، يعنې الله تعالی صالحه اعمال لوړوي، په هر حال غرض دا دی چې ښه کار او ښې خبرې دواړه علوّ او رفعت غوښتونکي دي، لهذا هر هغه سړی چې د الله تعالی د عزت طالب وي؛ دغه عزّت او رفعت دې د دې په وسيله حاصل کړي !.

په دې آيت کريمه علماء دليل نيسي چې د الله تعالی ذات اوچت او د عرش د پاسه دی.

وَالَّذِينَ يَمْكُرُونَ السَّيِّئَاتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَكْرُ أُولَٰئِكَ هُوَ يَبُورُ ﴿١٠﴾

اوهغه کسان چې جوړوي (تاته د قتل، حبس، نفي) مکرونه ناکاره؛ شته دوی ته عذاب ډېر سخت، او مکر فريب د دغو هم هغه فاسد باطل هلاک دی.

تفسير: يعنې هغه کسان چې بد تدابير جوړوي، او د حق په خلاف تل په حيلو او پلمو جوړولو کې مشغول او لګيا وي، بالآخره ناکامه کيږي، او ضرور تاوان مومي، وګورئ ! قريشو په (دار النّدوة) کې سره جرګه او پر دغې خبرې يې ټرون وکړ: «ښايي چې رسول الله يا ووژلی شي، يا دې بندي کړی شي، يا دې له ملکه د باندې وشړلی شي»، د دغې فيصلې نتيجه داسې شوه چې: د «بدر» د غزوې په وخت کې همدغه خلق له خپله وطنه د باندې وويستل شول، او همدوی د مسلمانانو له لاسه ووژلی شول، او د «بدر» په قليب او کوهي کې د تل لپاره قيد کړل شول.

وَاللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَاجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ ۚ

او الله پيدا کړي يئ تاسې (يعنې اول ځلي نيکه د تاسې) له خاورو، بيا (تاسې اولاده يې پيدا کړئ) له څاڅکي (د مني)، بيا يې وګرځولی تاسې جوړې جوړې (ښځه او مېړه لپاره د توالد او تناسل)، او نه اخلي حمل هيڅ ښځه، او نه ږدي (حمل هيڅ ښځه) مګر په علم د الله سره.

تفسير: يعنې آدم عليه السلام يې له خاورو څخه او بيا د هغه نوره اولاده يې د اوبو له يوه څاڅکي څخه پيدا کړه، بيا له نارينه او ښځې څخه يې جوړه پيدا کړه، چې له هغو څخه انساني نسل منتشر او خوريږي، په دغه ضمن کې د حمل استقرار له وخته د ووړکي د پيدا کېدلو تر وخته، هغه اطوار او ادوار چې تيريږي؛ پر هغو ګردو باندې الله تعالی عالم دی، او هغه داسې پټ او مخفي اعمال دي، چې مور او پلار هم پرې نه دي خبر، چې دننه څه صور، اعمال او تحوّلات پيښيږي.

وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِ إِلَّا فِي كِتَابٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١١﴾

او نشي اوږدېدلی عمر د هيڅ عمر اوږد کړی شوي، او نه هيڅ قدر کمولی شي له عمر د دغه (معمرّ) څخه (يا له عمره د بل معمّر څخه، يعنې تزييد او تنقيص د عمر نه دی)؛ مګر په کتاب (د لوح محفوظ کې ليکلی شوی دی)، بېشکه دغه (لنډول او اوږدول د عمر) پر الله ډېر اسان دي.

تفسير: يعنې د هر چا چې هر قدر عمر وي، هغه په «لوح محفوظ» کې ليکلی شوی دی، او هغه اسباب او وسائل چې د عمر د اوږدېدلو يا د لنډېدلو دي، يا دا چې کوم يو به خپل طبيعي عمر ته رسيږي؟ او کوم يو به نه رسيږي؟ دغه ټول د الله تعالی په محيط علم کې موجود دي، او پاک الله ته پر دغو ټولو جزئياتو باندې احاطه لرل هيڅ اشکال نه لري، او الله تعالی ته د ګردو (ټولو) «ما کان و ما يکون» جزئي، کلي او د غيب او شهادت علم له ازله تر ابده او الی ما شاء الله پورې ښکاره دی، نه ښايي چې د الله تعالی علم او صفات پر خپل ځان قياس کړی شي، شاه صاحب (رحمه الله) ليکي:

«هر کار الله تعالی ته ډېر اسان وي، لکه د «انسان پیدایښت»، او رسونه يې خپل مقدّر عمر ته، او همداسې وګڼئ د اسلام تدريجي پرمختګ او ارتقاء، او بالآخر د کفر مقهور بدل او مغلوب بدل».

وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرٰنِ ۖ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ شَرَابُهٗ وَهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ؕ وَمِنْ كُلٍّ تَاْكُلُوْنَ لَحْمًا طَرِيًّا وَّتَسْتَخْرِجُوْنَ حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا ۚ

او نه برابريږي سره هغه دواړه بحرونه سيندونه، دا يو خوږ دی تنده لرې کوونکی، خوندوړې ښې هضمېدونکې ښې تېرېدونکې اوبه د ده، او دا بل تريو دی تريخ، او له هر يوه له دغو (دواړو بحرونو سيندونو څخه) خوړئ تاسې غوښې تازه (د مهي)، او راوباسئ (له دغه ترخه سينده) ګاڼه (د مرغلرو او مرجانو) چې اغوندئ يې (او اغوندوئ يې ښځو خپلو ته).

تفسير: له پاسه د توحيد د دلائلو بيان ادامه لري، چې په دغه ضمن کې يوه لطيفه اشاره د اسلام د غلبې په طرف هم کيږي، شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «يعنې کفر او اسلام سره برابر نه دي، الله تعالی کفر مغلوبوي، اګر که تاسې ته به له دغو دواړو څخه فائده دررسيږي، له مسلمانانو ځنې دين قوّت او غلبه مومي، او له کفّارو ځنې جزيه او خراج حاصلوي، غوښه د خوږو او د ترخو د دواړو سيندونو څخه وځي، يعنې مهي، مګر ګاڼه (زېور) مرغلرې، مرجان او جواهر علی الأکثر له ترخه سيند څخه ايستل کيږي.

وَتَرَى الْفُلْكَ فِيْهِ مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝۱۲

او (تل) وينې ته بېړۍ (او جهازونه) په دغه (بحر سيند) کې تلونکې څيروونکې (د اوبو) لپاره د دې چې طلب کړئ تاسې له فضله د الله (په تجارت کې) او لپاره د دې چې تاسې شکر وباسئ (په دغه لوی نعمت).

تفسير: اکثريه لوی لوی او مهم تجارت او سوداګري د جهازونو په وسيله کيږي، له هغه څخه کوم منافع چې حاصليږي؛ همدغه د پاک الله فضل او مهرباني ده، پر دغو فوائدو او انعاماتو انسان ته لازم دي چې د دغه مالک الملکوت او صاحب الکبرياء والجبروت حمد او شکر اداء کړي !.

يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۗ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ

ننباسي (الله) شپه ورځ کې، او ننباسي (الله) ورځ په شپه کې، او مسخر په کار کې يې لګولي دي لمر او سپوږمی، چې هر يو بهيږي (روان دی) تر يوې نېټې ټاکلې شوې (چې ورځ د قيامت ده).

تفسير: دغه مضمون پخوا له دې نه په څو ځايونو کې تېر شوی دی.

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ؕ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مَا يَمْلِكُوْنَ مِنْ قِطْمِيْرٍ ؕ ۝۱۳

دغه (ذات موصوف په پاس صفاتو) الله دی رب ستاسې، خاص همده ته دی ملک باچاهي، او هغه معبودان چې بولی يې تاسې (ای مشرکانو !) بې له دغه (الله)؛ نه دي مالکان دوی د نرۍ پردې (د زړي) د خرماوو.

تفسير: يعنې د هغه لوی ذات صفات چې پاس بيان شول؛ هم هغه في الحقيقت ستاسې حق الله دی، او د ټولو علويّاتو او سفليّاتو خالق، مالک، الله دی، هغه شيان چې ستاسې له خوا معبودان درولي شوي دي، او تاسو يې بولئ او عبادت

ورته کوئ؛ د هغو خوارانو باچاهي او خپلواکي چېرې، بلکه دوی د هغې نرۍ پردې په اندازه هم د یوه څیز مالکان نه دي، چې د کجورو (خرماوو) په زړیو پورې نښتې وي.

إِن تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ

که وبولئ تاسې (ای منکرانو) دغه معبودان؛ نه اوري بلنه ستاسې، او که (بالفرض) وایې وري دوی، نو نه به شي درکولی ځواب ستاسې (ځکه چې ژبه نه لري)، او په ورځ د قیامت به منکران شي دوی په شریک کولو ستاسې (باندې دوی لره سره له الله نه).

تفسیر: یعنې له هغو معبودانو څخه چې تاسې مرسته او امداد غواړئ، او هغه خپلو ځانونو ته وسیله ګڼئ؛ دوی ستاسې غږ او بلنه نه اوري، او که تاسې ته څه توجّه هم وکړي؛ هغه ستاسې په کار نشي درتلی، او په درد مو نه خوري، بلکه د قیامت په ورځ به دوی ستاسې د دغه شرک څخه په علانیه ډول د خپل تنفّر او بېزارۍ اعلان کوي، او د امداد او کومک په ځای به تاسې ته دښمنان ثابت شي.

وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ

او خبر به نه کړي تا (له حقیقت د دې کار هیڅ خبروونکی) په شان (د خبرولو د هغه ښه عالم) ښه خبردار (الله).

تفسیر: یعنې له الله تعالی ځنې په ټولو احوالاتو باندې بل څوک ښه علیم او خبردار دی؟ همدغه علیم او خبیر الله تعالی فرمایي چې دغه شرکاء بیخي چتې او غلط دي، او له سره ستاسې په کار نه درځي، دغسې سمې صافې خبرې بې له الله تعالی نه بل څوک تاسې ته کولی شي؟ او ښوولی شي؟.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَنتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ ۖ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ

ای خلقو ! تاسې فقیران محتاجان یئ الله ته، او الله همدی دی غني بې پروا، ښه حمد ثناء ویلی شوی.

تفسیر: یعنې ټول مخلوقات هم هغه الله جل جلاله ته محتاج دي، او الله جل جلاله هیڅا ته او هیڅ شي ته محتاج نه دی، ځکه چې ګرد محاسن، محامد او صفات د ده په وجود کې مجموع او موجود دي، نو همدغه الله جل جلاله د بلنې او دعاء لایق دی، او د امداد او استعانت څښتن او مستحق دی، چې د خپلو بندګانو هر راز دعاء او سوال اوري، او په خوښی سره یې مستجابوي، او که څوک د ده لوی دربار ته خپل عجز، نیاز او افتقار نه وړاندې کوي؛ په قهریږي.

إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ

که اراده وفرمایي (الله) د بیولو ستاسې (په هلاکت سره؛ نو بو به موځي) او را به ولي نور مخلوق نوی (بدل د تاسې). او نه دي دغه (شړل ستاسې او راوستل د نورو) پر الله څه سخت مشکل.

تفسیر: یعنې که تاسو یې منئ یا یې نه منئ، الله تعالی داسې مطلق قادر دی چې تاسې ګرد له منځه ورک کړي، او خپل بل مخلوق ستاسې په ځای ودان او ودروي، چې من کلّ الوجوه الله تعالی ته داسې مطیع وي؛ لکه چې په اسمانونو کې پرښتې د ده خالصې او مخلصې بندګانې دي، او داسې کول پاک الله ته ډېر سهل او اسان دي، لیکن د الله تعالی د حکمت اقتضاء داسې ده، چې په ځمکه کې دغه ګردې سلسلې ښایي چې قائمې او جاري وي، او په پای کې هر یو د خپلو ښو او بدو اعمالو جزاء او بدل وموميِ.

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ وَاِنْ تَدْعُ مُثْقَلَةٌ اِلٰى حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ وَّلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى ؕ

او نه اخلي (هيڅ نفس عاصي) بار د ګناه د بل نفس، او که راوبولي دروند باري (بل څوک) بار د ګناهونو خپلو ته؛ وابه نه خيستى شي له هغه څخه هيڅ څيز، او اګر که وي (دغه بللى شوى) خاوند د خپلوى هم.

تفسير: يعني هيڅوک به د خپلوانو بار پخپل سر وانخلي، او نه به يو د بل د ګناه له پيټي څخه لرې څه کم کړي، او نه به د بل چا د بللو او غږ کولو څخه څه ګټه او فائده وررسيږي، اګر که يې ډير نژدې خپلوان هم وي، ګرد خلق به نفسي ! نفسي ! ! وايي، هلته يواځې د الله تعالى په فضل او مرحمت سره کار چليږي، او بس !.

اِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ

بېشکه همدا خبره ده چې وېروې ته هغه کسان چې ويريږي له ربه خپله په غيبو سره، او قائموي (سم اداء کوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ.

تفسير: يعني ستاسې له ويرولو څخه هم هغه سړى نفع اخلي؛ چې له الله تعالى څخه بالغيب ويريږي، او د ده له وېرې څخه تل په عبادت کې لګيا وي، د هر چا په زړه کې چې د الله تعالى خوف او وېره بيخي نه وي؛ نو هغه کله له دغو ويرولو څخه متأثر کيږي.

وَمَنْ تَزَكّٰى فَاِنَّمَا يَتَزَكّٰى لِنَفْسِهٖ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۱۸﴾

او هر څوک چې ځان پاک کړي (له شرکه او معاصيو) پس بېشکه همدا خبره ده چې ځان يې پاک کړ لپاره (د نفعې) د ځان خپل، او خاص (طرف) د الله ته ورتله دي (د هر چا).

تفسير: يعني هر څوک چې ستا پند او نصيحت واوري، او خپل وضعيت اصلاح او ښه کړي؛ نو د ده احسان او منّت نه پر تا او نه پر الله تعالى دى، بلکه په دغه کې په خپله د هم هغه سړي فائده ده، او دغه فائده په پوره ډول سره هلته څرګندېږي چې د ګردو رجوع او بېرته ورتګ الله تعالى ته شي.

وَمَا يَسْتَوِى الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ﴿۱۹﴾ وَلَا الظُّلُمٰتُ وَلَا النُّوْرُ ﴿۲۰﴾ وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُوْرُ ﴿۲۱﴾ وَمَا يَسْتَوِى الْاَحْيَآءُ وَلَا الْاَمْوَاتُ ؕ

او نه برابريږي سره ړوند (کافر) او ليدونکى (مؤمن). او نه تياره (باطل) او نه رڼا (حق). او نه سيورى (ثواب يا جنت) او نه تود باد (عقاب يا دوزخ). او نه برابريږي سره ژوندي (علماء) او نه مړي (جهلاء).

تفسير: يعني هغه مؤمن چې الله تعالى ورته د زړه سترګې بښلي دي، د حق په رڼا او د الله تعالى د وحي په پلوشو کې يې له کوم تکليفه او زحمته دغه لاره پرې کوي، او برابر د جنت باغونو او د الله تعالى د رحمت سيوري ته رسيږي، آيا له دغسې انسان سره هغه کافر سيالي او برابري کولى شي چې د زړه ړوند او د اهواوو او اوهامو په تيارو کې حيران سرګردان ګرځي، او بالآخر ناڅاپه د جهنّم اور او د هغه سخت سوځوونکي تاوده باد په طرف منډې وهي؟ له سره دغه دواړه سره نه دي برابر، او که داسې وى؛ نو داسې وپوهېږئ ! چې مړي او ژوندي سره برابر شول، في الحقيقت د مؤمن او کافر په منځ کې له دې نه هم زيات داسې فرق او تفاوت شته، چې د يوه ژوندي روغ رمټ انسان او د يوه

مړي لاش په منځ کې وي، اصلي او دائمي ژوندون يوائې د ايمان د روح په برکت پيدا کيږي، او ماسوا له ايماني روح څخه ښايي ژوندی انسان له زرهاوو مړيو څخه بدتر وګڼه شي.

إِنَّ اللَّهَ يُسْمِعُ مَن يَشَاءُ ۖ وَمَا أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِي الْقُبُورِ ﴿٢٢﴾ إِنْ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ﴿٢٣﴾

بېشکه چې الله اوروي هر هغه چا ته چې اراده وفرمايي (د اورولو يې) او نه يې ته (ای محمده !) اوروونکی (د نافع قول) هغو ته چې په قبورو هديرو کې دي. نه يې ته (ای محمده !) مګر ويروونکی (د منکرانو له جحيمه).

تفسير: يعنې که الله تعالی اراده وکړي؛ نو مړيو ته يې هم اورولی شي، حال دا چې د دغې خبرې قدرت نورو ته نشته، همداسې وګڼئ چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم کار دعوت، تبليغ، پيغام رسول او په خير او شر باندې پوهول او خبرول دي، که زړه مړي کافران دغه خبرې وانه وري؛ نو هغه اورول د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم له قوّته او قدرته پورته دي.

إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ۚ وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ ﴿٢٤﴾

بېشکه چې مونږ لېږلی مو يې ته په حق رښتيا (دين) سره زېری ورکوونکی (د جنت مؤمنانو ته)، او ويروونکی (له دوزخ کفّارو ته)، او نه وو هيڅ امّت مګر چې تېر شوی په هغه کې کوم ويروونکی.

تفسير: وېره اوروونکی نبي وي يا د نبي قائم مقام، هر څوک چې د الله تعالی د لارې په لورې بلنه ورکوي، د دې په متعلق د «نمل» د سورت په (۴) رکوع کې څه ليکلی شوي دي.

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۖ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ وَبِالزُّبُرِ وَبِالْكِتَابِ الْمُنِيرِ ﴿٢٥﴾

او که دروغجن بولي (کفّار) تا (نو مه خفه کېږه، ځکه چې) پس په تحقيق دروغجن بللي وو هغو کسانو چې وو پخوا له دوی نه (انبياء خپل) ، چې راغلي وو دوی ته رسولان د دوی په ښکاره دلائلو او په صحيفوسره او په کتاب ښکاره کوونکي (د حق او باطل).

تفسير: يعنې پخوانيو انبياء الله همدغه روښان تعليمات يا ښکاره معجزات له خپلو ځانونو سره راوړي وو، له هغو ځنې ځينو ته مختصرې مختصرې صحيفې او ځينو ته لوی مفصل کتابونه ورکړی شوي دي.

ثُمَّ أَخَذْتُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٢٦﴾

بيا مې ونيول هغه کسان چې کافران شوي وو (په سخت عذاب سره) پس څرنګه شو انکار ځما (او تغيير د دوی په عذاب سره؟).

تفسير: يعنې کله چې له تکذيب څخه دوی مخ وانه ړوه، نو وګورئ چې د هغوی آخره خاتمه څرنګه شوه؟ ستاسې انجام هم هغسې کېدونکی دی.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرَاتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا ۚ

آيا نه وينې ته چې بېشکه الله نازلې کړې دي له (جانبه) د اسمانه اوبه، پس راوويستلې مونږ په وسيله د دې (اوبو) مېوې، په دې حال چې مختلف دي رنګونه د دغو (مېوو).

تفسير: يعنې قسم قسم مېوې، بيا په يوه قسم کې رنګا رنګ ثمرات يې پيدا کړي دي، له يوې ځمکې او له يو اوبو او له يوې هوا څخه د دغومره مختلفو اشياوو او انواعو پيدا کول؛ د پاک الله عجيب او غريب قدرت ښکاره کوي.

وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيضٌ وَّحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا وَغَرَابِيْبُ سُوْدٌ ﴿۲۷﴾

او ځينې له غرونو (خاوندان د) لارې (توتې توتې) دي سپينې او سرې چې مخالف دي سره رنګونه د دغو (لارو)، او (ځينې د دوی) تک تور دي.

تفسير: يعنې سپين هم په څو څو درجو دي، کوم يې تک سپين لکه د مرمر ډېره، کوم يې سپين لکه مالګه، او ځينې يې نسبتًا سپين، او سور هم په څو څو درجو، او تور هم په څو څو درجو دي، ځينې تک تور لکه رانجه او د ډېرو سکاره، او ځينې تور لکه د کارغه وزر، او ځينې نسبتًا تور، او په ځينو غرونو کې رنګارنګ رنګونه او لارې شته.

وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَآبِّ وَالْاَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ كَذٰلِكَ ؕ

او (همداسې) له خلقو څخه هم او (هم داسې له نورو) ژوندیو خوځېدونکو او څارويو څخه هم چې سره مخالف دي رنګونه د هغو همداسې (لکه دغه اختلافات).

تفسير: دغه ګرد د الله تعالى د قدرت د عجائبو او غرائبو تذکره ده، يعنې هم هغسې چې په نباتاتو، جماداتو، حيواناتو کې راز راز او رنګ په رنګ مخلوقات ليدل کيږي؛ په انسانانو کې هم هره نوعه او صنف سره ببل او جلا دي، که د مؤمن په شان کافر هم سمه صافه لاره ځان ته غوره کړي، او دواړه سره يو شي، او ګرد انسانان يو رنګ ځان ته غوره کړي؛ نو دغه کله امکان لري، او له سره نشي کېدی، په دغه سره يې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته اطمينان او تسلي ورکړې ده، چې تاسې د مخلوقاتو له اختلافاتو څخه مه خفه کېږئ !.

اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ غَفُوْرٌ ﴿۲۸﴾

بېشکه همدا خبره ده چې ويريږي له الله څخه له بندګانو د دغه (الله) پوهنده عالمان، بېشکه الله ښه غالب قوي دی (په انفاذ د احکامو) ښه مغفرت کوونکی دی (د خطياتو).

تفسير: يعنې نه ويريدونکي بندګان هم شته، او د الله تعالى ځنې ويريدونکي هم شته، مګر ويريږي هغه کسان چې الله تعالى د عظمت او جلال، د آخرت د بقاء او دوام، او د دنيا په فناء او اتمام باندې پوهيږي، او د الله تعالى د احکامو او هداياتو د علم تحصيل کوي، او تل د مستقبل په فکر کې اوسيږي، په هر هغه چا کې چې دغه پوهه او علم په هره درجه وي؛ په هم هغه درجه به دی هم له الله تعالى څخه ويريږي، په هغه کې چې خوف نه وي؛ هغه في الحقيقت د دې خبرې مستحق نه دی چې ورته پوه او عالم وويلی شي، شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «يعنې د الله تعالى معامله هم په دوه ډوله ده: الله غالب هم دی چې په هره خطا چې سړی ونيسي؛ نيولی يې شي، او غفور رحيم هم دی، که ګناهګاران وبښي؛ بښلی يې شي»، نو په دواړو حيثيتو انسان ته ښايي چې د الله تعالى څخه وويريږي، ځکه چې نفع او ضرر دواړه د الله تعالى په واک او قبضه کې دي، نو هر کله چې اراده وکړي؛ نفع ستنوي او ضرر لاحقوي.

إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَارَةً لَّن تَبُورَ ﴿٢٩﴾

بېشكه هغه كسان چې لولي كتاب د الله (قرآن) او قايموي (تل سم اداء كوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ، او لګوي (په لاره د الله كې) ځينې له هغو شيانو څخه چې ورکړي مو دي دوی ته (لګوي يې) په پټه او په ښکاره، اميد لري دوی د داسې يوه تجارت چې له سره نه هلاک کيږي.

تفسير: يعنې هر هغه چې د الله تعالى څخه ويريږي، قلبًا او لسانًا مسلمان شي، او د ده احكام ومني، او د ده كتاب په اخلاص او عقيدت سره ولولي، او په بدني او مالي عباداتو كې هيڅ قصور او كوتاهي ونه كړي، نو دغه مسلمانان دې د داسې لويې او اعتباري سوداګرۍ اميدوار اوسي ! چې له سره په هغه كې نقص او خساره نه عائده كيږي، او د ضرر او تاوان احتمال په كې نشته.

لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِ ۚ إِنَّهُ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٠﴾

لپاره د دې چې پوره ورسوي (الله) دوی ته اجرونه (د عملونو) د دوی، او زيات ورکړي دوی ته له فضله خپله، بېشكه چې دغه (الله) ښه بښونكى (د معصياتو) دى ښه قبلوونكى (د احسان د محسنينو) دى.

تفسير: يعنې ډېر ګناهونه بښي او معافوي يې، او د خورا لږ طاعت قدر فرمايي، او سم له اصوله او قاعدې څخه كوم ثواب چې ښايي چاته ورسيږي؛ الله تعالى له هغه څخه زيات ثواب ورعطاء كوي.

وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ بِعِبَادِهِ لَخَبِيرٌ بَصِيرٌ ﴿٣١﴾

او هغه چې وحي كړې ده مونږ تاته له كتابه (قرآنه) هم هغه حق رښتيا ده، په دغه حال كې چې مصدِّق رښتينى كوونكى دى هغو كتابونو ته چې پخوا له دې نه وو، بېشكه الله پر بندګانو خپلو خامخا ښه خبردار دى (په باطن د دوى) ښه ليدونكى دى (په ظاهر د دوى).

تفسير: يعنې د بندګانو پر احوالو ښه عليم اوخبير دى، او په ښه موقع كې يې دغه كتاب نازل كړى دى.

ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۖ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ ۚ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ ۚ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ ﴿٣٢﴾

بيا مو وارث وګرځول (او ور مو كړ دا) كتاب (قرآن) هغو كسانو ته چې غوره كړي مو دي له بندګانو خپلو (چې دغه محمدي امت دى)، پس ځينې له دوى ظالم دي پر خپل ځان، او ځينې له دوى په منځ د لارې كې برابر تلونكي دي، او ځينې له دوى ډومبى كېدونكي خيراتونو نېكيو ته په اذن حكم د الله، دغه يو فضل دى ډېر لوى.

تفسير: يعنې وروسته د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د دغه كتاب وارث محمّدي امّت ګرځولى شوى دى، چې په مجموعي حيثيت او هيئت د ګردو امتونو څخه غوره افضل او اعلى دى، هو ! د امت ګرد افراد سره يو شان نه دي، په دوى كې ځينې افراد خو هغه دي چې سره له صحيح ايمانه په ګناهونو كې اخته او مبتلا كيږي، چې دغه «ظالم لنفسه» شو، او هغه دي چې متوسط تلونكي دي يعنې نه په ګناه كې لګيا او نه منهمك ـ او نه لوى ولي او بزرګ دى،

دغو ته يې «مقتصد» وفرمايل، يو خو هغه کامل بنده دی چې د الله تعالی په فضل او توفيق سره يې پرمختګ کړی دی، او د محاسنو، فضائلو، او کمالاتو په تحصيل کې له مقتصدانو څخه ډېر مخ کې تللي دي، مستحب شيان يې هم نه دي پريښي، او د ګناه له خوفه له تنزيهي مکروه څخه هم پرهېز کوي، او خپل ځان ژغوري، د اعلی درجې بزرګی او د فضيلت خاوندان همدوی دي، په دغسې منتخبو او غورو بندګانو کې له يوه حيثيته ګرد مسلمانان شميرلي شوي دي، ځکه چې دوی ګرد درجه په درجه جنتيان دي، ګنهګار هم که مؤمن وي؛ نو يوه نه يوه ورځ حتمًا جزمًا په جنّت کې ننوځي، يعنې بالآخر د دوی په برخه معافي ده، او مقتصد په سلامت دی، او پر مخ تلونکی له ګردو څخه په مخ کې دی.

جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤًا ۚ وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿۳۳﴾

جنتونه د هستوګنې دي ننوځي به (دغه درېواړه طائفې) په هغو کې، ګانې دار کولی به شي په دغه (جنت) کې له باهوګانو (وښيو) څخه له سرو زرو (خالصو) او له مرغلرو (صافو)، او جامې د دوی په دغه (جنت) کې د ورښمو (مخصوصو) به وي.

تفسير: سره زر او ورښم دمسلمانانو نارينه وو لپاره هلته دي په جنت کې، نه دلته په دنيا کې، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «هر هغه (نارينه) چې ورښمين (جامې) اغوندي په دنيا کې؛ وابه يې نغوندي په آخرت کې».

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ ۭ اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ شَكُوْرُۨ ﴿۳۴﴾

او وبه وايي (جنتيان په وخت د دخول د جنّت کې) ټوله ثناء صفت خاص الله ته دی، هغه الله چې لرې يې کړ له مونږ څخه خفګان، بېشکه رب ځمونږ خامخا ښه بښونکی (د عاصيانو) ښه قدردان (د نېکانو) دی.

تفسير: يعنې د دنيا او د محشر غم يې لرې او ورک کړ، او ګناه يې وروبښله، او د قدردانۍ له لوري يې ځمونږ لږ طاعت قبول وفرمايه.

اَلَّذِيْٓ اَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ لَا يَمَسُّنَا فِيْهَا نَصَبٌ وَّلَا يَمَسُّنَا فِيْهَا لُغُوْبٌ ﴿۳۵﴾

هغه (رب) چې را يې وستو مونږ کور د اقامت (جنّت ته) له فضله خپله، چې نه رسيږي مونږ ته په دغه (جنّت کې) هيڅ مشقّت، او نه رسيږي مونږ ته په دغه (جنّت) کې هيڅ ستوماني خفګان.

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «د هستوګنې کور له دې نه پخوا هيڅ نه وو، هر چېرې به تلل راتلل، نقل او حرکت وو، د روزې غم، د دښمنانو اندېښنه، د رنځ او مشقت، مصيبت او نور مصاعب او مصائب به موجود وو، کله چې جنّت ته ورسيږي؛ دغه ګرد شيان له منځه لرې او ورک کيږي».

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ ۚ لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ فَيَمُوْتُوْا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِّنْ عَذَابِهَا ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِيْ كُلَّ كَفُوْرٍ ﴿۳۶﴾

او هغه کسان چې کافران شوي دي؛ شته دوی ته اور د دوزخ، حکم به ونه کولی شي پر دوی (د دويم مرګ چې) پس مړه (او په آرام) شي، او نه به سپکوالی کاوه شي له دوی نه له عذابه د دې (اور د دوزخ)، همداسې جزاء ورکوو مونږ هر ناشکره (بې ايمانه) ته.

تفسير: نه كفارو ته په جهنّم كې مړ ورسيږي چې د دوی هغو تكاليفو ته خاتمه ورکړي، او نه به د عذابه تكليف لږ شيبه هم له دوی نه كميږي، داسې ناشكرانو ته ځمونږ له جانبه هم دغسې سزاوې ورسيږي.

وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَا أَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ

او دوی به ناري سوري وهي په دغه دوزخ كې (او داسې به وايي) ای ربه ځمونږ ! (يو كرت) راوباسه مونږ (بېرته دنيا ته څو هلته) عمل وكړو صالح او نېک غير له هغه چې وو مونږ چې كاوه به مو (پخوا له دې، بد عمل).

تفسير: يعنې په هغه وخت كې دوی هغه ښه ګڼل، مګر اوس داسې وايي چې: بيا به هم هغسې عملونه ونه كړو، د لږ مدّت له مخې مونږ له دوزخ څخه وباسه، څو مونږ ښې چارې، صالحه اعمال او حسنه افعال ځان ته راټول كړو، او سره له اطاعته او غاړه ايښودلو او فرمان منلو بېرته درحاضر شو، بيا الله تعالى ورته داسې فرمايي:

أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ فَذُوقُوا فَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ نَصِيرٍ

آيا نه وو درکړی مونږ تاسې ته عمر دومره (موده) چې پند اخلي په هغه كې هر هغه څوک چې پند اخيستل غواړي، او راغلی وو تاسې ته ويروونكی (چې د هغو خبره مو ونه منله)، پس وځكئ (عذاب) پس نشته ظالمانو (كافرانو) ته هيڅوک مددګار (چې له عذابه يې خلاص كړي).

تفسير: دغه ځواب به دوزخيانو ته ورکاوه كيږي، يعنې مونږ خو تاسې ته عقل او پوهه درکړې وه، او پوره عمر مو هم در په برخه كړی وو، چې ښايي تاسې به په هغه كې ښه فكر او غور كاوه، او ښه به مو له بده جلا او سمه صافه لاره به مو ځان ته غوره كړې وی، تر دې چې له تاسې ځنې ډېر كسان تر شپېتو ـ اويا او اتيا كلونو پورې هم په دنيا كې ژوندون كړی وو، برسېره په دې ستاسې د هدايت او لارښوونې لپاره مونږ تاسې ته داسې اشخاص او حالات هم درلېږلي وو، چې تاسې د بديو له خرابې خاتمې څخه وويروي، او د غفلت له خوبه مو ويښ كړي، آيا وروسته له دې نه اوس تاسې ته كوم عُذر او بهانه پاتې ده؟ اوس نو په همدغه دوزخ كې اوسېږئ !، او د سختو عذابونه خوندونه وځكئ !، او له هيڅ لوري د هيڅا امداد او معاونت ته هم څه هيله او توقع مه لرئ !.

إِنَّ اللَّهَ عَالِمُ غَيْبِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ

بېشكه چې الله عالم دی په پټو شيانو د اسمانونو او د ځمكې، بېشكه الله ښه عالم پر هغو خبرو چې پټې دي په سينو زړونو كې.

تفسير: يعنې پاك الله ته د بندګانو ګردې پټې او ښكاره خبرې، احوال افعال، او د زړونو اسرار معلوم دي، د هيڅا نيت له الله تعالى څخه پټ نه دی، او سم له هغه له هر چا سره معامله كوي، الله جل جلاله ته دغه خبره هم څرګنده ده چې دغه خلق چې اوس داسې ناري او سوري وهي چې مونږ يو ځلې خوشې كړه چې بېرته دنيا ته لاړ شو، څو هلته په صالحه اعمالو بوخت او له سره ګناه ته نژدې نشو؛ دوی پخپلو دغو دعوو كې دروغجنان دي، ځكه كه دوی اويا ځلې نور هم پرېښودی شي چې بېرته لاړ شئ ! څو صالحه اعمال وكړئ، خو بيا هم دوی له خپلو شرارتونو او بغاوتونو څخه لاس اخيستونكي نه دي، د دوی عادت او د مزاج اقتضاء همداسې ده: ﴿وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ﴾ (۷ جزء د الأنعام سورت (۳) ركوع، (۲۸) آيت).

هُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ ۚ

دغه (الله) هم هغه ذات دی چې ګرځولي يې يئ تاسې خليفګان (د تېرو خلقو) په ځمکه کې.

تفسير: يعنې د پخوانيو امّتونو په ځای مو تاسې ته ځای درکړ، چې اوس د هغو په مينو کې ودان يئ، او وروسته له هغوی څخه تاسې حکومت او رياست چلوئ، نو ښايي چې د هغه د شکر ايستلو حق په ښه شان سره اداء کړئ.

فَمَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ ۖ وَلَا يَزِيدُ الْكَافِرِينَ كُفْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ إِلَّا مَقْتًا ۖ وَلَا يَزِيدُ الْكَافِرِينَ كُفْرُهُمْ إِلَّا خَسَارًا ﴿٣٩﴾

پس هر څوک چې کافر شو (يا يې ناشکري وکړه)؛ پس پر هغه دی (دغه) کفر (يا کفران) د ده، او نه زياتوي کافرانو ته کفر د دوی په نزد د رب د دوی مګر بې زاري غضب (د رب په دوی)، او نه زياتوي کافرانو لره کفر د دوی مګر خساره زيان (په آخرت کې).

تفسير: يعنې ستاسې له دغه کفره او ناشکري او د الله تعالى له آيتونو څخه له انکاره الله تعالى ته هيڅ ضرر او نقصان نه رسيږي، الله ځمونږ له حمده او شکره بې پروا دی، هو ! له ناشکرۍ څخه پر فاعل يې د هغې ګناه او وبال لويږي، د کفر آخره خاتمه ماسوا له دې نه بل هيڅ شی نه ده، چې پاک الله له دغه ناشکره څخه ښزاره او نارضا کيږي، او د دغه کافر په نقصان او خسران کې مسلسلاً او منظمًا تزييد او ترقي واقع کيږي.

قُلْ أَرَأَيْتُمْ شُرَكَاءَكُمُ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ ۖ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُوا مِنَ الْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمَاوَاتِ ۚ

ووايه (ای محمده ! دوی ته) آيا وينئ تاسې شريکان ستاسې هغه چې بلل به مو (او عبادت به مو کاوه د دوی) غير له الله؛ راوښيئ ماته چې کوم څيز پيدا کړی دی (دغو معبودانو ستاسې) له ځمکې څخه، او که شته دوی ته (کوم) قسم شريکوالی په (پيدايښت د) اسمانونو کې (له الله سره).

تفسير: يعنې د خپلو معبودانو په احوالو کې فکر وکړئ ! او بيا ماته دغه خبره راڅرګنده کړئ، چې د ځمکې کومه برخه دوی جوړه کړې ده؟ ياد اسمانونو په جوړولو، په ساتلو او اداره کولو کې دوی څومره برخه او شرکت لري؟ که دوی په دغه کې هيڅ برخه نه لري؛ نو دوی څرنګه معبودان ګرځيدلي دي؟ لږ شانې خو له عقل او پوهې او فکر او غور څخه هم کار واخلئ !.

أَمْ آتَيْنَاهُمْ كِتَابًا فَهُمْ عَلَىٰ بَيِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ

يا ورکړی دی مونږ دوی ته کتاب پس دوی پر پاخه حجّت ولاړ دي له هغه کتابه (او دا يو هم نه دی).

تفسير: يعنې که عقلي دليل او سند نشته؛ نو کوم هسې معتبر نقلي دليل راوړاندې کړئ ! چې د هغه په اساس تاسې دغه د شرک دعوی کوئ؟ دا يو هم نه دی !

بَلْ إِن يَعِدُ الظَّالِمُونَ بَعْضُهُم بَعْضًا إِلَّا غُرُورًا ﴿٤٠﴾

بلکه نه کوي وعده دا ظالمان (مشرکان) ځینې د دوی (چې غټان او مشران دي) ځینو نورو ته (چې خواران او کشران دي)؛ مګر غره کول (او فریب ورکول).

تفسیر: یعنې هیڅ عقلي یا نقلي دلیل نشته، خبره فقط هم دغومره ده، چې په دوی کې مشرانو کشرانو ته، او پخوانیو وروستنیو ته د شیطان په لمسون او اغواء پرله پسې دغسې وعدې کړي، او داسې خبرې یې ورښوولې دي: ﴿وَيَقُولُونَ هَٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِندَ اللَّهِ﴾ «همدغه معبودان ځمونږ شفاعتګران دي د الله په نزد کې»، او د هغه قرب مونږ ته راعطاء کوي، حال دا چې دغه خالص چل، فریب او غولول دي، دوی به څرنګه شفیع وګرځېدلی شي؟ حال دا چې ډېر لوی مقربین به هم د کفارو د شفاعت او سپارښت په موضوع کې خپله ژبه نشي خوځولی.

إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ أَن تَزُولَا ۚ وَلَئِن زَالَتَا إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّن بَعْدِهِ ۚ

بېشکه الله ساتي (دغه) اسمانونه او ځمکه له دې نه چې زائل شي (او له خپله محوره بېځایه شي) او (قسم دی) که (بالفرض) مخ په زوال شي دا دواړه؛ نو وبه نه ساتي (له زواله) دغه دواړه بل هیڅوک ماسوا له دغه (الله) نه.

تفسیر: یعنې د الله تعالی قدرت دی چې دومره لویو لویو عظامو کراتو ته یې داسې تنظیم، تنسیق او ترتیب ورکړی دی، چې هیڅ یو له دوی ځینې له خپلو مراکزو څخه نه ښوییږي، او نه له خپل مقام او نظام څخه یو طرف ته لږ تمایل او حرکت کوي، او که بالفرض دغه شیان له خپلو ځایونو څخه بل کوم طرف ته نقل یا حرکت وکړي؛ نو بیا ماسوا الله څخه کوم یو زور او طاقت به وي چې هغه به بیا ببرته خپل ځای ته راولي، یا یې تر خپل نظارت او انتظام او اداري لاندې ونیسي؟ لکه چې په قیامت کې کله چې الله تعالی دغه نظام او قوام ګډوډ او تیت او پرک کړي؛ نو کوم قوت به د ده مخه ونیسي؟.

إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤١﴾

بېشکه دغه (الله) دی ښه تحمّل والا (چې تعجیل نه کوي په تعذیب د منکرینو) ښه بښونکی (د تائبانو).

تفسیر: یعنې د خلقو د کفر او عصیان اقتضاء خو همداسې ده چې دغه ګرد نظام یو ځلي ګډوډ او لاندې باندې کړی شي، لیکن د الله تعالی لطف، کرم، حلم، تحمّل او بردباری دغه نظام ټینګ پخپل قوام درولی او ساتلی دی، که د الله تعالی مرحمت، مکرمت، او بښنه نه وي؛ نو دغه ودانه دنیا ورانیږي.

وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِن جَاءَهُمْ نَذِيرٌ لَّيَكُونُنَّ أَهْدَىٰ مِنْ إِحْدَى الْأُمَمِ ۖ فَلَمَّا جَاءَهُمْ نَذِيرٌ مَّا زَادَهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤٢﴾ اسْتِكْبَارًا فِي الْأَرْضِ وَمَكْرَ السَّيِّئِ ۚ وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ ۚ

او قسمونه به خورړ (کفارو د مکې) پر الله پر سختو قسمونو خپلو سره: خامخا که چېرې راغی دوی ته کوم ویروونکی (پیغمبر)؛ خامخا وي به دوی هرومرو ښه لاره موندونکي له یوه (له تېرو) امتونو، پس کله چې راغی دوی ته ویروونکی (چې محمد دی)؛ نو زیات نه کړ (دغه راتګ) دوی ته مګر تېښته (له حقه). لپاره د لویې غوښتلو په ځمکه کې او (لپاره د) مکر بد، او نه چاپېره کیږي مکر فریب ناکاره مګر خو په اهل خپل (چې مکر کوونکي دي).

تفسير: كله چې د عربو اقوامو دغه قصې او خبرې اورېدلې، چې يهودانو او نورو اقوامو د انبياء الله خبرې نه منلې، او د دوی له احكامو څخه به يې غاړې غړولې؛ نو دوی به پخپلو منځونو كې سره داسې ويل: «كه د الله تعالى له فضله په مونږ كې كوم نبي مبعوث شي؛ نو مونږ به د هغو عاصي اقوامو پر خلاف د خپل نبي په ډېر ښه شان سره رفاقت، اطاعت او متابعت وكړو، او د خپل اخلاص او صميميت يو ډېر ښه وضعيت به دنيا ته وربښكاره كوو»، خو څه وخت چې الله تعالى دوی ته خپل داسې نبي مبعوث او ولېږه، چې له ټولو انبياوو څخه په عظمت او شان لوی دی؛ نو له حقه څخه دوی لا لرې شول، او غاړه يې ترې وغړوله، د دوی تكبّر، غرور، لويي دوی ته كله اجازه وركوي چې نبي الله صلى الله عليه وسلم په مخ كې خپلې غاړې كېږدي، او د رفاقت او اطاعت په ځای يې عداوت او مخالفت ته ملاوې ترلې دي، او راز راز نامناسبه تدابير، چلونه او فريبونه يې شروع كړي دي، مګر دغه خبره مو په ياد وي چې ناكاره كار او بدې چارې پخپله همدغه د بدو كارونو او بدو عملونو عامل او فاعل ته عائد او راجع كيږي.

فرض يې كړئ چې په دنيا كې ورته څه زيان او تاوان هم ونه رسېد، مګر په آخرت كې خو يقيناً پخپله سزا رسيږي.

فَهَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ الْأَوَّلِينَ ۚ فَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَبْدِيلًا ۖ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَحْوِيلًا ﴿٤٣﴾

پس آيا انتظار كوي دوی (يعنې نه كوي) مګر طريقې جاري د الله ته په (امتونو) پخوانيو كې، پس له سره به نه مومې ته سنت، عادت د الله تعالى ته هيڅ تبديل، او بيا به له سره نه مومې ته سنت، عادت د الله ته هيڅ تحويل (ګرځول).

تفسير: يعنې دوی د دغې خبرې په انتظار كې دي، كومه معامله چې له پخوانيو مجرمينو سره شوې ده؛ هم هغه معامله دې له مونږ سره هم وكړه شي، نو كه دوی له خپل دغه كفره او شركه لاس وانخيست؛ هم هغسې معامله له دوی سره هم هرومرو كيدونكې ده، د الله تعالى هغه سنّت او دستور چې د مجرمينو د سزا وركولو په نسبت له پخوا څخه جريان لري؛ هغه له سره بدلېدونكى او تغيير موندونكى نه دى، او په خپل ټاكلي وخت او نېټه كې خامخا رسېدونكى دى، او هر ګز داسې نه كيږي چې پر داسې مجرمينو به په آخرت كې انعام او اكرام مبذول شي، او له سره هغه لرې كېدونكې نه ده چې له مجرم ځنې سزا لرې كړه شي، يا غير مجرم ته سزا وركړه شي.

أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَكَانُوا أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعْجِزَهُ مِنْ شَيْءٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ ۚ إِنَّهُ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا ﴿٤٤﴾

آيا نه دي ګرځېدلي (دغه كفّار د مكې) په ځمكه (ملكونو) كې پس چې ووينې (په دغو اوطانو كې چې) څرنګه وو عاقبت ـ آخره خاتمه د هغو كسانو چې پخوا له دوی نه (تېر شوي) دي، او وو دوی ډېر سخت له دغو (كُفّارو) څخه له جهته د قوت، او نه دی الله (داسې) چې عاجز يې كړي كوم شی نه په اسمانونو كې او نه په ځمكې كې، بېشكه چې الله دی ښه عالم (په احوال د مخلوقاتو) ښه قادر دی.

تفسير: يعنې لوی لوی زورور او قوي مدّعيان هم د الله له نيولو څخه ځان نشي خلاصولى، لكه عاد او ثمود او نور، دغه خواران څه حيثيت لري؟ او څه شی دي؟ ښه وپوهېږئ ! چې په اسمان او ځمكه كې د هيڅ يو قوت او قدرت له لاسه دغه نه دي پوره چې الله تعالى عاجز او ناتوان كړی شي، د الله تعالى علم محيط او قدرت كامل دی.

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوا مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهْرِهَا مِن دَابَّةٍ

او که چېرې نيولي وی الله دا خلق په سبب د هغو (بدو اعمالو) چې کوي يې دوی؛ نو نه به يې پرېښې وی پر شا د ځمکې هيڅ ژوندی خوځېدونکی تلونکی.

تفسير: يعنې خلق چې دغه خطاوې او ګناهونه کوي، که د دوی په هره يوه ګناه او جزئي خطا نيولو شروع شي؛ نو هيڅ يو جاندار او متنفس د ځمکې پر مخ کې نه پاتې کيږي.

وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۖ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِعِبَادِهِ بَصِيرًا ﴿٤٥﴾

وليکن وروستي کوي (الله) دوی تر نېټې ټاکلې شوې پورې، کله چې راشي اجل (نېټه) د دوی؛ پس بېشکه چې الله دی پر بندګانو خپلو ښه ليدونکی بينا (نو وربه کړي دوی ته جزا سم له اعمالو د دوی).

تفسير: يعنې تر يوه مقرر ميعاد او معين حد پورې الله تعالی مهلت ايښی دی، چې پر هر جرم به يې فوراً نه نيسي، کله چې موعود وخت راشي؛ نو په ياد يې ولرئ چې ګرد شيان د پاک الله تر نظر لاندې دي، او د هيڅا د يوې ذرې په اندازه ښه يا بد عمل د ده له علمه نه دی بهر، پس د هر يوه په نسبت سم له خپل محيط علم سره ډېرې ښې ښې فيصلې صادروي، نه به مجرم چېرې پټېدی شي، او نه به د مطيع له حقه سترګې پټېږي.

تمت سورة فاطر بعون الله الملک القادر، فالحمد لله والشکرُ له.

سُورَةُ يٰسٓ

«د (يٰسٓ) سورت مکي دی، پرته له (۴۵) آيته چې مدني دی، (۸۳) آيتونه (۵) رکوع لري، په تلاوت کې (۳۶) او په نزول کې (۴۱) سورت دی، وروسته د (الجن) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

يٰسٓ ﴿۱﴾ وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾ اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۳﴾ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۴﴾

قسم دی په دغه قرآن محکم (حکم کوونکی په حق ـ خاوند د حکمت) باندې. چې بېشکه ته (ای محمده !) خامخا له (هغو) رسولانو څخه يې (چې ليږلي شوي دي خلقو ته). پر سمه لاره (يا ته يې روان پر سمه لاره چې توحيد دی).

تفسير: يعنې لوی قرآن پخپل اعجازي شان، ډک له حکمته تعليماتو، پخو مضامينو په لحاظ د دې خبرې ډېر لوی زبردست شاهد دی چې هغه نبي چې د دغه پاک قرآن حامل دی؛ بالیقین د الله تعالی رسول دی، او بې له شکه او شبهې پر سمه لاره دی، او د دوی ګرد تابعان بې له کومې اندېښنې او خطرې د مقصود تر منزل پورې رسيږي، او نه بې لارې کيږي.

تَنْزِيْلَ الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ﴿۵﴾

نازل شوی دی (تا ته دغه قرآن په نازلېدلو) د زبردست رحم کوونکي له خوا.

تفسير: يعنې دغه د دين سمه لاره، يا قرآن حکيم د هغه الله تعالی له جانبه نازل شوی دی، چې داسې يو لوی زبردست ذات هم دی، چې هرومرو منکرانو ته سزا ورکوي، او داسې رحمان رحيم مهرباني کوونکی ذات هم دی، چې د امر منونکيو او مطيعانو ته خامخا پخپل بخښش او مهربانی سره انعام او اکرام ورکوي، نو له همدې جهته په قرآني آيتونو کې بعضًا د لطف، رحم او کرم شان عيان دی، او بعضًا د قهر، غضب، تهديد او تخويف شان بيان شوی دی.

لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اُنْذِرَ اٰبَآؤُهُمْ فَهُمْ غٰفِلُوْنَ ﴿۶﴾ لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلٰٓى اَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۷﴾

لپاره د دې چې وويروې ته هغه قوم چې نه وو ويرولي شوي پلرونه د دوی، پس دوی غافلان دي (له توحيده). خامخا په تحقيق حقه ثابته شوې خبره (د عذاب) پر اکثرو د دوی (په ازل کې) پس دوی ايمان نه راوړي.

تفسير: يعنې ډېر سخت او مشکل کار تاسې ته درسپارلی شوی دی، چې دغه عربي قوم د دې پاک قرآن په وسيله ويښ او د نورو اقوامو مقتدا وګرځوه، حال دا چې دغو عربو ته له سلهاوو کلونو راهيسې کوم ويښوونکی او پوهوونکی نه دی راغلی، نو دغسې جاهل قوم چې نه له الله جل جلاله څخه خبر دي، او نه آخرت پېژني، نه له ماضي څخه يې عبرت اخيستی دی، او نه د مستقبل په فکر کې دي، او نه د ښو او د بدو تميز لري، او نه د اصلاح او افساد شعور په دوی کې شته، د دغه غفلت له تيارو څخه دوی هدايت ته ايستل، او د رشد پر سمه لويه لاره باندې برابرول کوم معمولي کار نه

دی، بلاشُبهه تاسې په پوره قوّت او قدرت او فعالیت سره دوی د دغه غفلت او جهالت څخه د ویروونکیو نتائجو او ډېر خراب مستقبل څخه خبروئ او ویروئ یې، او زیار کوئ څو دغه قوم د فوز اعلی مدارجو (درجو) ته ورسیږي، او د دغه قوم د بري او کامیابی په وسیله د جهان نورو انسانانو ته هم د فلاح او نجاح لار وښیې، لیکن تاسې له داسې ډېرو افرادو سره مخامخ کیدونکي یئ چې هغوی به هیڅ قسم پند او نصیحت ته غوږ نه ږدي، نو ځکه پر دوی باندې شیطان په پوره ډول سره مسلّط کیږي، او په دغه وسیله سره د دوی حماقتونه او شرارتونه د دوی په نظر کې ډېر ښکلي او ښایسته ښکاره کوي، او د دوی ګرد ړومبني او وروستني احوال اګر که ډېر ګنده او خراب هم وي؛ د دوی تر سترګو ښه او موزون ورښکاره کوي، بالآخر دغه خلق له بل ژوندون څخه بالکل منکریږي، او هم هغه فاني غوښتنې د خپل مقصود قبله ګرځوي، په دغه وخت کې له یوه جانبه د شیطان دغه خبره ﴿لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ * إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ﴾ «ماسوا له مخلصانو نور ګرد به بې لارې کړم» رښتیا کیږي، او له بل طرفه د الله تعالی دغه قول ﴿لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ أَجْمَعِينَ﴾ «له ستا او ستا له تابعانو څخه به دوزخ ډک کړم» ثابت او منطبق کیږي، باقي د الله تعالی په علم کې دغه خبره له ازله ثابته ده، چې د هغه قوم دغه افراد له خپلې بې تمیزۍ او بې پروایی د شیطان په اغواء کې اخته کیږي، او د الله تعالی د عذاب مستحق ګرځي، نو له داسې خلقو څخه دغسې هیله نه کیږي چې دوی به په سمه لاره راشي، نو که تاسې ته د انذار او اصلاح په سلسله کې له داسې همت او حوصله ماتوونکو واقعاتو سره مقابله واقع شي؛ نو مه خفه کیږئ ! او په ډېر ښه شان سره خپله وظیفه انجاموئ ! او نتائج یې پاک الله ته وسپارئ !.

إِنَّا جَعَلْنَا فِي أَعْنَاقِهِمْ أَغْلَالًا فَهِيَ إِلَى الْأَذْقَانِ فَهُمْ مُقْمَحُونَ ۸

بېشکه مونږ، ګرځولي مو دي په غاړو د دوی کې طوقونه پس دغه (طوقونه رسیدلي دي) تر زنو د دوی پورې، پس دوی جګ (وچت) سري کړی شوي دي (چې له سره ښکته نشي کتلی).

تفسیر: دغه غاړکی د عاداتو، رسومو، د جاه او مال حب، او د آباوو او اجدادو تقلید وو، چې دغو شیانو دوی له ستونیو (مرو) څخه سخت نیولي وو، او د نخوت او تکبّر لامله د دوی سرونه نه راښکته کېدل.

وَجَعَلْنَا مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ۹

او ګرځولی مو دی په مخ د دوی کې سد دېوال، او له وروسته د دوی سد دېوال، پس پټې کړې مو دي (سترګې د دوی)، پس دوی هیڅ نه وینې.

تفسیر: د نبيّ الله عداوت د دوی او د هدایت قبلولو په منځ کې لوی دېوالونه درولي وو، دوی د جاهلانه رسومو او د فاسدو آراوو په تیارو کې داسې بند وو چې وړاندې وروسته هیڅ د دوی په نظر کې نه ښکاریده، نه به یې ماضي ته کتل، او نه به یې مستقبل ته، باقي د دوی د افعالو نسبت الله تعالی ته د دې لپاره کړی شوی دی، چې د خیر او شر خالق هم هغه دی، او پر اسبابو د مسبباتو ترتّب د الله تعالی په اراده او مشیت سره کیږي.

وَسَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنْذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ۱۰

او برابر دي پر دوی باندې چې وویروې ته دوی (له عذابه) یا نه ویروې ته دوی (خو دوی) ایمان نه راوړي (ځکه چې مقرر دی په ازل کې مړ ګ د دوی په کفر سره).

تفسیر: دوی ته برابر دي، لیکن ستاسې په حق کې برابر نه دي، بلکه داسې سخت معاند او سرکښ قوم ته نصیحت کول او د دوی په اصلاح پسې لوېدل د عظیمو درجاتو د حصول سبب دی، او کله همدغه ښه اخلاق د نورو د هدایت باعث ګرځي، همداسې آیت د البقرة سورت په (۱) رکوع کې هم تېر شوی دی.

إِنَّمَا تُنذِرُ مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ وَخَشِيَ الرَّحْمَٰنَ بِالْغَيْبِ ۖ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَأَجْرٍ كَرِيمٍ ﴿١١﴾

بېشكه همدا خبره ده چې وېروې ته هر هغه چې متابعت كوي د پند (د قرآن) او ويريږي له رحمان ځخه په غيب (بې د ليدلو)، پس زېرى ورکړه (اى محمده !) هغه ته په مغفرت بښنې سره او په اجر لوى سره.

تفسير: يعنې ځما د ويرولو فائده د هم هغه په حق کې ظاهريږي چې نصيحت ومني، او پر هغه عمل وکړي، او د الله تعالى وېره د ده په زړه کې وي، هر هغه چا سره چې بيخي د الله تعالى ويره نه وي؛ نو هغه نه د پند او نصيحت څه پروا کوي، او نه د رسول الله صلى الله عليه وسلم له تنبيه او تذكير څخه ځكته او فائده اخيستى شي، دغسې خلقو ته د مغفرت او عزّت په ځاى ذلت ور په برخه كيږي، وروسته اشاره فرمايي چې د فريقينو د دغه عزّت او ذلّت پوره اظهار د ژوندانه په بله دوره كې كيږي، چې د هغه مبادي وروسته له مرګه شروع كيږي.

إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي الْمَوْتَىٰ

بېشكه مونږ همدا مونږ به ژوندي كوو مړي (په قيامت كې).

تفسير: يعنې وروسته له مرګه د بل ژوندانه وجود حتمي او يقيني دى، چې هلته به ټول د خپلو اعمالو بدل وومومي.

وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ ۚ

او ليكو مونږ هغه چې مخكې ليږلي دي دوى او (هغه) نښې (چې وروسته پاتې كيږي) له دوى.

تفسير: يعنې هغه نېك او بد اعمال چې له خپلې ځانه يې ړومبى ليږلي دي، او د ځينو هغو اعمالو نښه يا بد اثرات يا نښې چې له خپلې ځانه يې وروسته پرېښي دي، مثلاً د كوم كتاب تصنيف يا د علومو ښوونه، يا د عمارت ودانې، يا د كوم رسم اساس كېښودل، اعم له دې چې نښه وي يا بد؛ دغه ټول په دې كې داخل دي، بلكه د الفاظو په عموم كې د اقدامو هغه نښې هم شاملې دي، چې د كوم عبادت په طرف د تللو په وخت كې پر ځمكه لويږي، لكه چې په ځينو صحيحو احاديثو كې تصريح ده: «ديار كم تُكتبْ آثارُكم».

وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُّبِينٍ ﴿١٢﴾

او هر شى شمېرلى دى مونږ هغه په اصل نښكاره (لوح محفوظ كې).

تفسير: يعنې څرنګه چې ټول اعمال او آثار وروسته له وقوعه سم له خپلې ضابطې سره ليكلي كيږي، پخوا له وقوعه هم هر څيز په لوح محفوظ كې ليكلي شوي دي، او هغه ليكل هم د انتظامي ضوابطو او مصالحو پر بناء دي، كه نه د الله جلّ جلالُه په قديم علم كې هر وړوكى او لوى شى لا له پخوا څخه موجود او حاضر دى، چې سم له هغه سره په لوح محفوظ كې نقلولى شي.

وَاضْرِبْ لَهُم مَّثَلًا أَصْحَابَ الْقَرْيَةِ إِذْ جَاءَهَا الْمُرْسَلُونَ ﴿١٣﴾

او بيان كړه (اى محمده !) دغو كفّارو ته يو مثل د اوسېدونكيو د كلي، كله چې راغلل هغې ته مرسلان استائي.

تفسير: د دغو نومونو صحيح تعيين نشي كېدى، او نه په يقيني ډول سره دغسې ويلى شي چې هغوى به بلا واسطه د الله تعالى رسولان وو، يا د كوم نبي په واسطه دوى مأموران شوي وو، څو د ده په نيابت هغه كلي ته لاړ شي، دغه دواړه

احتماله په کې شته، اګر که متبادر هم دغه دی چې ګوندې دوی پخپله انبياء دي، ممکن دي چې له عيسى المسيح عليه السلام څخه به وړاندې دوی مبعوث شوي وي، بعضې وايي چې: دغه د عيسى عليه السلام استاځي وو، چې د الله جل جلاله په امر ليږلي شوي وو.

إِذْ أَرْسَلْنَا إِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوا إِنَّا إِلَيْكُمْ مُرْسَلُونَ ﴿۱۴﴾

کله چې ولېږل مونږ دوی ته دوه (استاځي) پس تکذيب وکړ دوی د هغو دواړو، پس عزت ورکړ مونږ (او قوت دوی ته) په دريم سره، پس وويل دوی: بېشکه مونږ تاسې ته مرسلان استاځي يو.

تفسير: يعنې ړومبی دوه تنه لاړل، بيا د دوی تأييد لپاره دريم هم ولېږل شو، دوی درې واړه سره يوځای شول، او داسې يې وويل: مونږ خو په خپل سر نه يو راغلي، بلکه د الله تعالى استاځي يو، لهذا هر هغه شی چې مونږ يې وايو هغه د الله تعالى پيغام وګڼئ.

قَالُوا مَا أَنْتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا وَمَا أَنْزَلَ الرَّحْمَٰنُ مِنْ شَيْءٍ إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا تَكْذِبُونَ ﴿۱۵﴾

وويل (کافرو استاځيو ته) نه يئ تاسې مګر انسانان په شان ځمونږ او نه دی رالېږلی رحمان هيڅ شی (نه وحي او نه رسالت)، نه يئ تاسې مګر دروغ وايئ (په دغې دعوی).

تفسير: يعنې تاسې خو په هيڅ شي کې له مونږ څخه څه امتياز نه لرئ، نو بس کړئ ! خامخا داسې چټې خبرې مه کوئ !، او بې سببه د الله نوم مه اخلئ !، له سره الله هيڅ شی نه دی رالېږلی، فقط تاسې درې واړه پخپلو منځو کې سره جوړه او دغه خبره مو غوټه کړې ده، چې راځئ يوه داسې د دروغو خبره له خپله ځانه وترو، او بيا د هغې نسبت الله ته وکړو.

قَالُوا رَبُّنَا يَعْلَمُ إِنَّا إِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُونَ ﴿۱۶﴾

وويل (استاځيو) رب ځمونږ ته معلوم دي (دا چې) بېشکه مونږ تاسې ته خامخا درليږلي شوي يو.

تفسير: يعنې که مونږ پر الله تعالى دروغ تړو، هغه خو مو ويني، نو آيا الله جل جلاله به پخپل فعل سره د دروغجنانو پرله پسې تصديق او تاييد کوي؟ داسې له سره نشي کېدی، اوس تاسې پوهېږئ که نه پوهېږئ، الله تعالى ته دغه خبره ښه معلومه ده چې مونږ پخپلې دغې دعوی کې رښتيني يو، او هيڅ يوه خبره له خپله ځانه نه وايو، نو ځکه فعلاً هغه ځمونږ تصديق فرمايي.

وَمَا عَلَيْنَا إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿۱۷﴾

او نشته پر مونږ مګر (پيغام) رسونه ښکاره (سره له معجزاتو).

تفسير: يعنې مونږ خپله فريضه اداء کړې ده، د الله تعالى پيغام مو په ښه واضح او ښکاره صورت تاسې ته رسولی دی، او په ښو معقولو دلائلو او په زړه پورې طريقو مو تاسې پخپل خير او شر پوهولي يئ، اوس وروسته د حجّت له اتمامه تاسې پخپله غور او دقّت وکړئ، چې د تکذيب او عداوت انجام او عاقبت به څرنګه وي؟.

قَالُوٓا إِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ۖ لَئِن لَّمْ تَنتَهُوا لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٨﴾

وويل (كافرو) بېشكه مونږ بدفالي نيولې ده په تاسې، قسم دى كه منع نه شوئ (له دعوى د دغه رسالته خپل)؛ خامخا سنګسار به كړو مونږ هرومرو تاسې، او خامخا وبه رسيږي تاسې ته له طرفه ځمونږ عذاب دردناك.

تفسير: ممكن چې د مرسلينو د تكذيب او د كفر او عناد له شامته به پر دوى قحط او نور بليات نازل شوي وي، يا د انبياوو د ښوونې په اثر د دوى په منځ كې بيلتون واقع او بيا دوى په خپلو منځو كې سره اختلاف وكړ، څه يې ومنل او څه يې ونه منل، او د نامبارکۍ نسبت يې دوى ته وكړ، يعنې ستاسې د قدمونو له شامته پر مونږ د قحط او بې اتفاقۍ او مصيبت بلاء نازله شوې ده، دغه ګرد ستاسې له نحوست دي (العياذ بالله)، كه نه مونږ پخوا له دې نه ښه ماړه وو، او په اطمينان او سكون مو ژوندون كاوه، بس كړئ !، كه تاسې له خپل دغه وضعيت څخه لاس وانخيست؛ نو مونږ به سخت تكليف او عذاب تاسې ته درورسوو، او تاسې به تر هغه پورې په ګټو سره وولو، تر څو چې مړه شئ.

قَالُوا طَائِرُكُم مَّعَكُمْ ۚ أَئِن ذُكِّرْتُم ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿١٩﴾

وويل (استاځيو) چې بدفالي ستاسې له تاسې سره ده (چې دغه كُفر دى)، آيا نو كه پند در كړ شي تاسې ته (نو دغه ته بدفالي وايئ، نه ده داسې) بلكه تاسې يو قوم يئ مسرفان د انصاف له حده تېر بدونكي.

تفسير: يعنې ستاسې د كفر او تكذيب له شامته عذاب نازل شوى دى، كه تاسې ګردو متحدًا او متفقًا حق او صداقت منلى وى؛ نو نه به دغه مذموم اختلاف او تفرقه ستاسې په منځ كې پيدا كېده، او نه به په دې شان په آفاتو او بليّاتو مبتلا او اخته كېدى، پس د نامبارکۍ او نحوست اسباب پخپله په تاسې كې موجود دي، نو بيا ولې په دغومره يوه خبره چې مونږ تاسې ته ښه نصائح او پوهنه درورانديږ كړې ده، او تاسې مو ستاسې پر خير او شر پوهولي يئ؛ خپل نحوست ځمونږ پر سر غورځوئ !؟ او له وژلو څخه مو ويروئ !؟، حقيقت دا دى چې تاسې د عقل او د انسانيت له حدوده بيخي وتلي يئ ! نه خپله نفع او ضرر پخپل عقل سره معلومولى شئ !، او نه د انسانيت خبرې ستاسې له خولې څخه وځي !.

وَجَاءَ مِنْ أَقْصَا الْمَدِينَةِ رَجُلٌ يَسْعَىٰ

او راغى له لرې طرفه د هغه ښار يو سړى (حبيب نجار) چې منډې يې وهلې.

تفسير: وايي چې د دغه صالح سړي نوم حبيب وو، او د ښار په آخري برخه كې په عبادت مشغول او لګيا وو، او له حلاله كسبه به يې روزي خوړه، دغه فطري صلاحيت ده ته وار او موقع ور نه كړه چې چپ او ساكت پاتې شي، د دغې قصې د اورېدلو په اثر د استاځيو او د مرسلينو د تاييد او حمايت او د مكذبينو د پوهولو او نصيحت لپاره په منډه او ډېره جلتې راغى ولې چې دى وويرېد نه چې اشقياء د خپلو هغو وېرولو په اثر دغو مرسلينو او استاځيو ته څه ضرر او اذيت ورسوي، له دغه څخه معلوميږي چې د دغو مرسلينو د دعوت او تبليغ اثر د دې ښار تر لرې برخو پورې هم رسېدلى وو.

قَالَ يَا قَوْمِ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِينَ ﴿٢٠﴾ اتَّبِعُوا مَن لَّا يَسْأَلُكُمْ أَجْرًا وَهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٢١﴾

وويل (حبيب نجار) اى قومه ځما ! متابعت وكړئ تاسې د مرسلانو استاځيو. متابعت وكړئ تاسې د هغه چا چې نه غواړي له تاسې څخه اجر بدل حال دا چې دوى پر سمه صافه لاره (د خير او اصلاح) رهي (روان) دي.

تفسير: يعنې دوی د الله تعالی استائي دي، او د الله تعالی پيغام يې له خپل ځان سره راوړی دی، کوم پند او نصيحت چې دوی تاسې ته کوي ښايي تاسې هغه ومنئ !، او پرې عمل وکړئ !، وګورئ چې د دوی اخلاق، اعمال، عادات او اطوار ټول ښه دي، او بې غرضه د خير غوښتنه کوي، او څه معاوضه او مزدري هم له تاسې څخه نه غواړي، نو بيا ولې د داسې بې غرضو او پاکو بزرګانو متابعت او اطاعت ونه کړی شي؟ او د الله تعالی هغه پيغام چې د دوی په ذريعه لېږلی شوی دی؛ ولې ونه منلی شي !؟.

(نو دوی ورته وويل چې ته په دين د دوی يې؟ نو هغه ورته داسې وويل چې:)

وَمَا لِيَ لَآ أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي

او څه مانع ده ما ته (بلکه نشته چې د زړه له صدقه) عبادت نه کوم د هغه (الله) چې پيدا کړی يې يم زه.

تفسير: دا يې اګر که خپل ځان ته ويلې دي، مګر اصلي مقصود يې دا دی چې نورو ته يې واوروي، يعنې پر تاسې څه شوي دي چې د هغه لوی الله تعالی عبادت نه کوئ چې رب او خالق دی.

وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٢﴾

او خاص دغه (الله ته) بيولي کېږئ تاسې (په قيامت کې نو ښايي تاسې هم د همدغه الله تعالی عبادت وکړئ !).

تفسير: يعنې داسې مه ګڼئ چې تاسې يې عبث پيدا کړي يئ ! او بيا يې همداسې سرخوشي او آزاد پرېښي يئ؟ او بل هيڅ مقصود ستاسې له دغه پيدايښت څخه نشته، داسې نه دي بلکه وروسته له مرګه ګرد د الله تعالی په حضور کې حاضريږي، نو ښايي چې لا اوس د هغې ورځې په تهيه او فکر کې واوسئ !.

ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِ آلِهَةً إِن يُرِدْنِ الرَّحْمَٰنُ بِضُرٍّ لَّا تُغْنِ عَنِّي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا وَلَا يُنقِذُونِ ﴿٢٣﴾ إِنِّي إِذًا لَّفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾

آيا ونيسم بې له الله نور معبودان که اراده وفرمايي ماته رحمان د ضرر رسولو؛ نو دفعه به نه کړي له ما څخه شفاعت سپارښت د دوی هيڅ شی، او نه به مې خلاص کړي (په زور). بېشکه زه به په دغه وخت کی (چې نور معبودان ونيسم)؛ خامخا په ګمراهۍ ښکاره کې يم.

تفسير: يعنې دغه څومره ښکاره او صريحه ګمراهي ده چې له هغه مهربان او مطلق قادر الله څخه مخ اړوئ، او د داسې شيانو عبادت کوئ چې هغوی مو نه د پاک الله د نازل کړيو تکاليفو او ربړو څخه پخپله خلاصولی شي، او نه مو په سپارښت سره ترې بچ کولی شي.

إِنِّي آمَنتُ بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُونِ ﴿٢٥﴾

بېشکه زه چې يم ايمان مې راوړی دی په رب ستاسې پس واورئ تاسې له مانه.

تفسير: يعنې په مجمع کې بې له تردّده او اندېښنې اعلان کوم، چې ما پر واحد الله ايمان راوړی دی، دغه خبره دې ګرد سره واوري ! شايد مرسلانو ته يې د دې لامله اورولي وي؛ څو د الله تعالی په مخ کې شهادت ورکړي، او قوم ته

يې دا شهادت ځکه اورولی وي؛ چې د هغه د اورېدلو څخه متأثر شي، يا اقلاً د يوه مؤمن د ايمان د قوّت د مشاهدې په طرف متوجه شي.

قِيْلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ ۬

وويل شو (ورته چې ځه) ننوځه جنت ته (نو داخل شو جنت ته، او بې انتهاء نعمتونه يې په کې وليدل).

تفسير: يعنې على الفور ده ته د جنّت د ننوتلو فرمان ورکړ شو، نقل کوي چې قوم هغه په ډېر ظلم، جفا او غټ زړه توب سره په شهادت ورسوه، نو ځکه سمدلاسه د ده شهادت سره متصل حکم صادر شو، چې دی فوراً په جنت کې داخل شي، لکه چې د شهداوو د ارواحو په نسبت له احاديثو څخه ثابت دي چې دوی پخوا له محشره په جنت کې داخليږي.

قَالَ يٰلَيْتَ قَوْمِيْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۶﴾ بِمَا غَفَرَ لِيْ رَبِّيْ وَجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُكْرَمِيْنَ ﴿۲۷﴾

وويل ده: کاشکې چې دا قوم ځما پوه شوی وی. په دې چې مغفرت بښنه وکړه ماته رب ځما، او ويې ګرځولمه زه له عزت ورکړيو شويو (په ادخال د جنّت سره).

تفسير: قوم له هغه سره دښمني وکړه، چې دی يې ووژه، مګر دی وروسته د جنّت له ننوتلو څخه هم د قوم له خير غوښتلو څخه بېفکره نشو، او ويې ويل: که ځما قوم ځما له حاله او له دغه انعام او اکرام څخه چې د الله تعالى له لوري پر ما مبذول شوی دی خبر بدلی؛ نو خامخا يې ايمان راوړ.

وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلٰى قَوْمِهٖ مِنْۢ بَعْدِهٖ مِنْ جُنْدٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَمَا كُنَّا مُنْزِلِيْنَ ﴿۲۸﴾ اِنْ كَانَتْ اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمْ خٰمِدُوْنَ ﴿۲۹﴾

او نه مو وو نازل کړی پر قوم د دغه (حبيب نجار) وروسته (له شهادته) د ده هيڅ لښکر له (جانبه د) آسمانه، او نه وو مونږ نازلوونکي (د لښکر د ملائکو). نه وو دا عذاب (د دې قوم) مګر چغه وه يوه (د جبريل) پس ناڅاپه دوی مړه يخ کړخ پراته وو (لکه ايره د اور).

تفسير: يعنې وروسته له هغه دغه قوم هلاک کړل شول، او د دوی د دغه اهلاک لپاره مزيدو ترتيباتو او اهتماماتو ته دومره ضرورت پاتې نشو، چې له اسمانه ورته پرښتې لېږلې کېدی، او نه د الله تعالى دغه عادت دی چې د اقوامو د اهلاک لپاره لوی افواج وليږي، که هسې د کوم خاص مصلحت لپاره يې د پرښتو افواج لېږلي وي؛ هغه بېله خبره ده، په دغسې مواردو کې د ډېرو لويو مدعيانو او اعيانو د سړولو او شخ پخ غورځولو لپاره يو معمولي چغه کافي ده، لکه چې د همدغه قوم حال همداسې شو، چې پرښتې پر دوی يوه چغه ووهله، او دوی ګرد سره يو ځای همغلته مړه شول.

يٰحَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ ۚ مَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۰﴾ اَلَمْ يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ اَنَّهُمْ اِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ﴿۳۱﴾

ای حسرت افسوس دی پر بندګانو (کافرانو)، نه دی راغلی دوی ته هيڅ رسول مګر وو دوی چې په هغوی پورې به يې ټوکې مسخرې کولې. آيا نه وينې (دغه کفار) چې څومره ډېر هلاک

کړي دي مونږ پخوا له دوی نه له اهل د زمانې چې ښېشکه هغه (هلاک کړی شوي) دوی ته ښېرته نه راګرځي (دنیا ته، نو دوی پرې ولې عبرت نه اخلي؟).

تفسیر: یعنې ګوري او اوري چې په دنیا ځومره اقوام او ملل له انبیاوو سره د استهزاء او تمسخر په بدل هلاک او تباه شوي دي، چې اوس د هغوی نوم او نښه هم د دنیا په مخ کې نه ده پاتې، نو هیڅ یو تن له هغوی ځنې د دغې خبرې توان او طاقت نه لري چې ښېرته راشي، د عذاب په ژرنده کې دوی ټول سره اوړه او دلده او برابر شوي دي، خو دوی سره له هغه پند او عبرت نه اخلي، او هر کله چې کوم نوی رسول دوی ته راځي؛ نو دوی بیا په همغو تمسخرو او استهزاوو او ټوکو مسخرو باندې لاس پورې کوي چې پخواني کفار په هغه معتاد او د هغو په اثر پخپله سزا ورسېدل، لکه چې نن له خاتم الأنبیاء صلی الله علیه وسلم سره د معظمې مکې کفّار هم داسې سلوک او معامله کوي.

وَإِنْ كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿٣٢﴾

او نه دي دا ګرد (خلائق) مګر ټول په نزد ځمونږ حاضر کړی شوي لپاره د جزاء (په قیامت کې).

تفسیر: یعنې هغه خو د دنیا عذاب وو، د آخرت سزا خو ښه ده، داسې مه ګڼئ کله چې هلاک شوئ، نو بیا به ښېرته ځمونږ په طرف نه راځئ او ګردې خبرې او قصې ختمې شوې، د ګردو مخلوقاتو رجوع او حضور د پاک الله په دربار کې یو حتمي او ضروري امر دی، او هلته به ټول مجرمین او منکرین بلا استثناء نیولي کیږي.

وَآيَةٌ لَّهُمُ الْأَرْضُ الْمَيْتَةُ أَحْيَيْنَاهَا وَأَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَأْكُلُونَ ﴿٣٣﴾ وَجَعَلْنَا فِيهَا جَنَّاتٍ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَابٍ وَفَجَّرْنَا فِيهَا مِنَ الْعُيُونِ ﴿٣٤﴾ لِيَأْكُلُوا مِن ثَمَرِهِ

او یو دلیل (د قدرت) دی دوی ته ځمکه مړه (وچه کلکه) چې ژوندۍ کوو مونږ هغه (په اوبو سره) او راوباسو مونږ له هغې ځمکې څخه دانې نو له ځینو د دغو (دانو) څخه خوري. او پیدا کړي مو دي په دغې ځمکې کې باغونه له (هر قسمه د) خرماګانو او له (هر راز) انګورو، او جاري کړي مو دي په دغې (ځمکې) کې له چینو څخه. لپاره ددې چې وخوري دوی له مېوو د هغو.

تفسیر: یعنې ښایي دوی ته داسې شبهه پیدا شوي وي چې پس له مرګه بیا به مونږ ځرنګه ژوندي راپاڅولی کیږو؟ دغه په دې صورت ورپوهوي: ځرنګه چې ځمکه وچه کلکه مړه پرته وي، نو بیا الله تعالی یې تکه شنه زرغونه او ژوندۍ کوي، او په کې راز راز ونې، ګلان، غلې، دانې، مېوې، باغ، بهار او نور پیدا کوي، چې تاسې یې استعمالوئ، همداسې قیاس او اټکل وکړئ، چې په مړو ابدانو کې هم الله تعالی د حیات روح پو کوي، په هر حال په دغې مړې ځمکې کې دوی ته یوه داسې نښه او د قدرت دلیل شته چې په هغه کې د غور او دقّت کولو څخه بعث بعد الموت، د الله تعالی وحدانیت او عظمت او انعام او احسان په ښه ډول سره پېژندل او پوهېدل کیږي.

وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٣٥﴾

او نه دي پیدا کړي دغه (مېوې) لاسونو د دوی، آیا پس شکر نه وباسي دوی.

تفسیر: یعنې مېوې او د ځمکې نور حاصلات د الله تعالی په قدرت سره پیدا کیږي، د دوی په لاسونو کې داسې قدرت نشته چې د کورو یا کجورو یو دانه هم پیدا کړی شي، سره له هغه محنت او تردّد چې د یوه باغ په لګولو او روزنه کې

کيږي، مګر د دغه باغ د مېوو او حاصلاتو راوستل د الله تعالى کار او د ده په قبضه او اختيار کې دی، او که په غور سره وکتل شي؛ ټول هغه کارونه چې د انسانانو په سعي او کوښښ سره انجام مومي، هغه هم في الحقيقت د الله تعالى په عطاء کړی شوي قدرت او قوت او مشيت او ارادې سره کيږي، لهذا په هر حيثيت سره د الله تعالى شکر ايستل او احسان پېژندل واجب دي.

تنبيه: محقق مترجم (رحمه الله) په ﴿وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ﴾ کې «ما» نافيه اخيستې ده (كما هو دأب المتأخرين) ليکن له اسلافو څخه عمومًا د دغې «ما» موصوله توب نقل شوی دی، چې د هغه تاييد د ابن مسعود رضی الله تعالى عنه له قراءته چې په کې «و مما عملته أيديهم» دی کيږي.

سُبْحَانَ الَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنْبِتُ الْأَرْضُ وَمِنْ أَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ ﴿۳۶﴾

پاکي ده (له هر عيبه) هغه الله ته چې پيدا کړي يې دي دغه (ټولې) جوړې (انواع ـ اصناف) ټول له هغو څيزونو چې زرغونوي يې ځمکه، او له ځانونو د دوی (اولاد، لمسي، کړوسي) او له هغو (مخلوقاتو) څخه چې دوی يې نه پېژني (د علويّاتو اود سفليّاتو له عجائبو مخلوقاتو څخه).

تفسير: يعنې په نباتاتو او انسانانو او په هغو نورو مخلوقاتو کې چې لا له هغوی څخه خلق پوره نه دي خبر؛ الله تعالى جوړې پيدا کړي دي، اعم له دې نه چې دغه جوړه توب د تقابل له حيثيته وي، لکه نر او ښځه، خواږه او تروه، تور او سپين، ورځ او شپه، رڼا او تياره، يا د تماثل له حيثيته وي، لکه په يوه شان، يو رنګ، يو خوند مېوې او د ځمکې نور محصولات، او په يوه شکل او صورت سره دوه ساکنان (جاندار)، په هر حال په مخلوقاتو کې هيڅ يو داسې مخلوق نشته چې د هغه بل کوم مقابل او مماثل نه وي، ځکه چې مقابله يا مماثلت په هغو شيانو کې کېدی شي چې په کومه درجه کې في الجمله اشتراک ولري.

وَآيَةٌ لَهُمُ اللَّيْلُ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَإِذَا هُمْ مُظْلِمُونَ ﴿۳۷﴾ وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَهَا

او يو دليل (د قدرت د الله) دوی ته شپه ده، چې راوباسو مونږ له هغې (شپې) څخه ورځ، پس ناڅاپه دوی ننوتونکي وي په تيارو کې. او (بل دليل د قدرت د الله دوی ته) لمر (دی چې) ځي پخپلې ټاکلې (مقرر) لارې باندې (يا خپل ځای ته).

تفسير: «سلخ» د حيوان پوستکي ايستلو ته وايي، چې ترې لاندې غوښه يې ښکاره شي، همداسې وګڼئ د شپې په تيارو باندې د ورځې څادر هوار کړی شوی دی، څه وخت چې دغه د رڼا څادر د دې له سره څخه لرې کړ شي؛ خلق په تيارو کې پاتې کيږي، وروسته له هغه لمر بيا په خپل همغه مقرر تګ سره په معين وخت راخيژي، او ټول جهان او شيان رڼوي، د ليل او نهار پر دغو تقلباتو قياس او اټکل وکړئ، اوښه وپوهېږئ چې الله تعالى عالم همداسې فناء کوي، او بيا يې د بقا بل عالم ته انتقال او ژوندي راپاڅوي، او بېشکه همدغه الله تعالى د عبادت وړ او لايق دي، چې د ده په قدرت کې د دغو عظيم الشأنو انقلاباتو واک اختيار او زمام دي، چې له هغه څخه مونږ ته د مختلفو اقسامو فوائد رارسيږي، هغه مطلق قادر چې شپه په ورځې سره تبديلوي؛ نو له هغه څخه دغه خبره کله لرې او بعيده ده چې د رسالت د لمر په ذريعه دغه دنيا هم د جهالت له تيارو څخه وباسي، او لرې يې کړي، ليکن د شپې او ورځې او د لمر او قمر او د انجم د طلوع او غروب په شان هر کار پخپل وخت او نېټه کيږي.

ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ﴿۳۸﴾

دغه (مخصوص حرکت د لمر) اندازه ده د ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ښه دانا (پر هر څيز).

تفسير: د لمر چال او لاره مقرره ده، او دی پر هغې باندې منظم درومي، يو بځرکی يوه رپه له هغې څخه وړاندې وروسته نشي کېدی، د قيامت تر قرب او قيام پورې همدغه وضعيت دوام لري، څو دغسې يو وخت راشي چې هلته د الله تعالى له جانبه پر لمر داسې حکم صادريږي چې له همغه ځايه چې غروب شوی يې بېرته راوخېژه ! دغه هم دا وخت دی چې باب التوبه به ټرل کيږي كما ورد في الحديث الصحيح.

خبره دا ده چې د ده دغه د طلوع او غروب د عليم او خبير ذات له جانبه قائم کړی شوي دي، چې د ده انتظام او قوام بل هيڅوک نشي خرابولی، او نه يې ماتولی او نه د ده پر دغه حکمت او پوهنې څه تنقيد او تبصره کولی شي، دی هر وخت چې اراده وفرمايي، او څرنګه چې مشيت وفرمايي؛ په کې تحويل او تبديل او تعديل کولی شي.

وَالْقَمَرَ قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ حَتّٰى عَادَ كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ ﴿۳۹﴾

او سپوږمی ته اندازه کړي دي مونږ منزلونه تر هغه پورې چې وګرځي (په نظر کې) لکه وچه څانګه د خرما (چې کږه او نری شي).

تفسير: يعنې د لمر په شان قمر تل په يوه وضعيت او هيئت نه دی، بلکه هره ورځ تزييد يا تنقيص مومي، الله تعالى قمر ته (۲۸) منازل مقرر فرمايلي دي، چې دی دغه منازل په يوه معين نظام سره درجه په درجه طی او پرې کوي.

لَا الشَّمْسُ يَنْۢبَغِيْ لَهَآ اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ۭ وَكُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ﴿۴۰﴾

نه دي لايق لمر لره (او له وسه يې پوره نه ده) چې لاندې کړي سپوږمی (په زمان مکان اوصافو کې) او نه شپه ړومبی کېدونکې ده له ورځې، او دغه ټول (فلکي اجرام) په اسمان کې چورليدونکي دي (لامبو په کې وهي، پراخ په کې روان دي).

تفسير: په هر ملك او اقليم او په هره زمانه او موسم کې کومه اندازه چې شپې او ورځې ته اينښودلې شوې ده؛ دغه کرات هيڅ مجال او قدرت نه لري، چې له خپلې ټاکلې حرکت او سرعت څخه وړاندې يا وروسته د يوې رپې په اندازه هم تجاوز يا تخلف وکړی شي، هره يوه سياره په همغه خپل مدار کې قائمه او پخپل معين نظام سره چورلي، او له هغه ځنې د يوې ذرې په اندازه هم يو خوا او بلې خوا ته هيڅ تمايل او تجاوز نشي کولی، او سره له دغومره لويوالي او سريع او ګړندي حرکت په دغې آزادې فضاء کې يو له بله سره ټکر نه وي، او نه متصادم کيږي، او نه له خپلې مقررې اندازې څخه ورو يا ګړندي کيږي، آيا دغه د دې خبرې واضحه نښه نه ده چې دغه ټول عظيم الشأن مشينونه او د هغو دغه ګرد اجزاء او پرزې د کوم زبردست عليم، خبير، قدير ذات په قبضه او اختيار کې دي، چې په داسې دقيق او منظم صورت سره پخپلو کارونو کې لګيا دي، بيا نو هغه لوی ذات چې دغه شپې، ورځې، لمر، قمر، انجم او ټول علويّات او سفليّات وما فيها يې پيدا کړي دي، او په دغو کې هر راز تبديل تحويل کوي؛ آيا هغه په دې باندې نه دی قدير چې تاسې وروسته له فناء څخه بيا ژوندي راپاڅوي؟.

وَاٰيَةٌ لَّهُمْ اَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿۴۱﴾ وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا يَرْكَبُوْنَ ﴿۴۲﴾

او يوه نښه دليل (د قدرت د الله) دوی ته دا ده چې بېشکه سواره کړي دي مونږ اولاد د دوی په بېړۍ (جهاز) ډکه کړی شوي کې. او پيدا کړي دي مونږ دوی ته په شان د دغه (بېړۍ) هر هغه څه چې دوی پرې سوريږي (له نورو نواقلو څخه).

تفسير: يعنې د نوح عليه السلام په زمانه کې کله چې طوفان راغی؛ نو د آدم نسل يې د هغه پر ډکې بېړۍ سور کړ، چې نوح عليه السلام هغه جوړه کړې ده، که نه د انسان تخم به نه پاتې کېده، بيا د هغې بېړۍ په نمونه يې نورې بېړۍ او

جهازونه در جوړ کړل، چې پر هغو تاسې تر نن پورې سورېږئ، او سره له خپلو احمالو او اثقالو يې له يوې وچې ځخه بلې وچې ته وړئ !، او له دغو جهازونو ځخه همداسې کار اخلئ لکه چې له نورو نواقلو ځخه يې اخلئ، مثلاً اوښ چې هغه ته عربو «سفائن البر» يعنې د وچې بېړۍ ويل.

وَإِنْ نَّشَأْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيخَ لَهُمْ وَلَا هُمْ يُنقَذُونَ ﴿٤٣﴾ إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴿٤٤﴾

او که اراده وفرمايو مونږ؛ نو غرق کړي به مو وو دغه (راکښې د بېړۍ) پس نه به وي هيڅ فرياد رس او نه به دوی خلاصولی کيږي (له غرقه). مګر (نه يې غرقوو) په رحمت مهربانۍ خپلې سره، او لپاره د نفعې اخيستلو تر نېټې (د مړګ د دوی) پورې.

تفسير: يعنې دغه د هډوکو يو موټي انسان ته وګورئ، چې څرنګه له ويرووونکو سمندرونو او سيندونو ځخه د جهاز په ذريعه تيريږي راتيريږي، چې د هغو په نسبت د خورا لويو جهازونو حقيقت د يوې نرۍ خټلې په اندازه هم نه دی، که الله تعالی اراده وفرمايي چې تاسې په دغو سيندونو کې ډوب کړي؛ نو څوک تاسې ته له دغو ډوبېدلو ځخه نجات درکوي؟ او څوک به مو په فرياد رسيږي، مګر دغه د الله تعالی د حکمت او مهربانۍ او مصلحت اقتضاء ده چې دوی تر يوې معينې نېټې پورې ژوندي وي، او دغه دنيوي امور پخپل طبيعي مدار وګرځي، د ډېر افسوس ځای دی چې ډېر خلق د قدرت پر دغو دلائلو او نښو نه پوهيږي، او نه د الله تعالی د دغو نعماوو قدر پيژني.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّقُوا مَا بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٤٥﴾ وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ آيَةٍ مِّنْ آيَاتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٤٦﴾

او کله چې وويل شي دوی ته چې ځان وساتئ له هغه (دنيوي عذابه) چې په مخکې ستاسې دی، او له هغه (اخروي عذابه) چې وروسته درپسې راځي ښايي پر تاسې رحم وکړ شي (نو دوی مخ وګرځوي). او نه راځي دوی ته هيڅ دليل له دلائلو د رب د دوی مګر دي دوی له هغو (دلائلو) ځخه مخ ګرځوونکي.

تفسير: وړاندې د جزاء ورځ راځي، او وروسته مو پرېښې دي اعمال، يعنې کله چې دوی ته وويل شي چې: د قيامت د سزا او د بدو اعمالو له شامت ځخه وويرېږئ !، او د خپلې آخرې خاتمې په نسبت څه فکر او غور وکړئ !، څو د الله تعالی رحمت ستاسې په لوري متوجه شي؛ نو دوی نصيحت ته له سره غوږ نه ږدي، او تل د الله تعالی له احکامو ځخه مخ اړوي.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ أَطْعَمَهُ

او کله چې وويل شي دوی ته چې: نفقه ورکړه کوئ (عاجزانو ته) له ځينو هغو (مالونو) چې رزق روزي درکړي دي تاسې ته الله !؛ نو وايي هغه کسان چې کافران شوي دي (له جهته د استهزاء) هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی دی: آيا طعام ورکړو مونږ هغه چاته که اراده فرمايلي وی الله؛ نو طعام به يې ورکړی وو هغه ته.

تفسير: يعنې د الله تعالی نور احکام به څه ومني، پر فقراوو او مساکينو مال لګول د دوی په نزد هم ښه کار دی، ليکن همدغه مسلّمه خبره کله چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د مؤمنانو له طرفه دغو منکرانو ته ويله کيږي؛ نو په نهايتو سپکو طريقو سره ترې اعراض او انکار کوي، او وايي: «هغو کسانو ته چې پخپله الله پاک رزق او روزي نه

ده ورکړي، مونږ به هغوی ته څه ورکولی شو؟ او ولې به يې پرې خورو؟ مونږ د الله تعالی له مشيته مخالف کار نشو کولی، که د الله تعالی مشيت داسې نه وی؛ نو دوی به يې فقراء او محتاج او مونږ به يې غني او دولتمن نه وو ګرځولي»، نو آيا د دغه حماقت او بېحيايۍ په مقابل کې څه وويل شي؟ دغه خو د الله تعالی امتحان دی چې اغنياء يې د فقراوو پر اعانت مأمور فرمايلي دي، او د دوی په وسيله يې د هغوی د رزق رسولو سامان مهيأ کړی دی، هر هغه چې په دغه امتحان کې پاتې او ناکامه شي؛ نو ښايي چې دی پر خپلې بدبختۍ او ناکامۍ وژاړي.

تنبيه: د ځينو اسلافو له اقوالو معلوميږي چې دغه آيت د ځينو زنادقه وو په حق کې دی، په دغه صورت به د دوی دغه قول پر تمسخر نه حمل کيږي، بلکه پر خپل حقيقت ايښود کيږي.

إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٤٧﴾

نه يئ تاسې مګر په ګمراهۍ ښکاره کې.

تفسير: که دغه جمله د کفارو د قوله تتمه وي؛ نو مطلب به يې داسې کيږي: «ای د مؤمنانو ټولنې ! تاسې په صريحې ګمراهۍ کې لويدلي يئ، چې د داسې خلقو د ګټې پر مړولو پس ګرځئ، او که د الله له طرفه خطاب شي؛ نو معنی يې دا ده: «تاسو په ښکاره ګمراهۍ يې ياستئ، چې د الله تعالی حکم نه منئ، او په تقدير حواله ورکوئ»، شاه صاحب ليکي: «دغه ګمراهي ده چې په نېک کار کې پر تقدير حواله ورکړي، او د خپلو مزو په لاس ته راوړلو کې په طمعې او توقع پسې منډې ووهي».

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٨﴾

او وايي (کفّار) چې کله به وي دغه وعده (د قيامت؟ ووايئ راته !) که چېرې يئ تاسې صادقين رښتيني (په دې کې ای مؤمنانو !).

تفسير: يعنې ستاسې دغه قيامت او دغه عذاب او آفتونه چې تاسې مو له هغو څخه پرله پسې ويروئ؛ کله راځي؟ او دغه مواعيد مو کله پوره کيږي؟ که تاسې په واقع سره رښتيني يئ؛ نو دغه وعده ژر تر ژره پوره کړئ، او مونږ ته يې راوښيئ !.

مَا يَنظُرُونَ إِلَّا صَيْحَةً وَٰحِدَةً تَأْخُذُهُمْ وَهُمْ يَخِصِّمُونَ ﴿٤٩﴾ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً وَلَا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ ﴿٥٠﴾

(نو فرمايي الله چې) انتظار نه کوي (کفار) مګر د چغې يوې (د اسرافيل) چې وبه نيسي دوی حال دا چې دوی به جګړې سره کوي. پس توان به يې ونه شي د وصيت او نه به خپل اهل ته بېرته ورشي (له مشاغلو خپلو).

تفسير: يعنې قيامت به يو ناڅاپه واقع شي، او په داسې حالت کې به قائميږي چې ټول خلق پخپلو معاملاتو او چارو کې مشغول او لګيا وي، څه وخت چې اول صور (شپېلی) وپوکلی شي؛ د ګردو هوش او حواس به مفقود او ورک شي، او بالآخر ټول سره مري، او په هر ځای کې به مړي يو پر بل لويږي، دوی به دومره فرصت هم ونه مومي چې څه ووايي، يا څه وصيت وکړي، ياخپلو کورونو ته خپل ځان ورسوي، او بالفرض که وصيت هم وکړي؛ نو چا ته به يې کوي؟ او که خپلو کورونو ته هم راشي؛ نو کورونه به يې چېرې ودان پاتې وي؟.

وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ الْأَجْدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يَنسِلُونَ ﴿٥١﴾

او بیا به پوکی وکړ شي په صور (شپیلی) کې پس ناڅاپه دوی له قبورو څخه په طرف د رب خپل به منډې وهي ځغلي.

تفسیر: یعنې کله چې دویمه شپیلی (صور) وپوکلې شي؛ نو ګرد مخلوقات به سره ژوندي کیږي، او له خپلو قبرونو څخه به راپورته کیږي، او پرښتې به په ډېر سرعت سره دوی ګرد په ټیل وهلو سره د محشر د میدان په لوري ولي، او شړي به یې.

قَالُوا يَا وَيْلَنَا مَن بَعَثَنَا مِن مَّرْقَدِنَا ۜ

وایي به دوی: هلاکت دی او افسوس دی مونږ ته، چا راپاڅولو له ځایونو د خوبونو ځمونږ څخه؟

تفسیر: د قیامت د هولناکې منظرې له لیدلو څخه به دوی د قبر عذاب اسان وګڼي.

هَٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُونَ ﴿٥٢﴾

دا هغه (دویم ژوندون) دی چې وعده یې کړې وه رحمان، او رښتیا ویلي وو رسولانو.

تفسیر: دغه ځواب د الله تعالی له جانبه په هغه وخت کې ورکاوه کیږي، یا یې مستقبل د حاضر په ځای درولی همدا اوس ورته جواب وایي، یعنې ولې دغه پوښتنه کوئ؟ لږ شانته خو خپلې سترګې وغړوئ !او دغه وضعیت ته وګورئ ! دا خو هم هغه ژوندي راپاڅول دي، چې د هغو وعده د الله تعالی له طرفه تاسې ته درکړی شوې وه، او انبیاء الله به پرله پسې د هغو اخبار او اطلاع تاسې ته درکوله.

إِن كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿٥٣﴾

نه به وي (دغه نفخه الثانیه) مګر چغه یوه (چې وشي؛ نو راژوندي به شي دوی ټول) پس ناڅاپه دوی ټول په نزد ځمونږ به حاضر کړی شوي وي.

تفسیر: یعنې هیڅ یو متنفس به نه تښتېدلی شي، او نه به چېرې خپل ځان پټولی شي.

فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَلَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٥٤﴾

پس نن ورځ به ونه کاوه شي ظلم په هیڅ نفس باندې د هیڅ څیز، او نه به جزاء درکوله کیږي تاسې ته مګر (جزاء) د هغو (اعمالو) چې وئ تاسې چې کول به مو (له خیر او شر په دنیا کې).

تفسیر: یعنې د هیچا به نه نیکي ضایع کیږي او نه به د جرم له حیثیت او اندازې څخه زیاته سزا چاته ورکوله کیږي، پوره پوره او په کامل ډول سره هر چا ته د هغې جزاء او سزا ورکاوه کیږي، او له هر چا سره به په عدل او انصاف سره معامله وشي، او هر چاته به هر هغه نېک او بد کار چې په دنیا کې یې کړی وي؛ په عُقبا کې د ثواب او عقاب په شکل او صورت ور د مخه او وړاندې کیږي.

إِنَّ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِي شُغُلٍ فَاكِهُونَ ﴿٥٥﴾ هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ فِي ظِلَالٍ عَلَى الْأَرَائِكِ مُتَّكِئُونَ ﴿٥٦﴾ لَهُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ وَلَهُمْ مَا يَدَّعُونَ ﴿٥٧﴾

بېشکه اصحاب یاران د جنّت به نن ورځ په مشغولتیا کې د لذت اخیستونکي وي. دغه (جنتیان) او ښځې د دوی به په سیوریو کې (ناست وي) پر تختونو باندې تکیه وهونکي به وي. وي به دوی ته په دغه جنّت کې (انواع د) مېوو، او وي به دوی ته هر هغه شی چې غواړي یې دوی (او ارزو یې کوي).

تفسیر: په جنت کې به د هر قسم عیش عشرت او نشاط وسائل او سامان وي، مؤمنین به له دنیوي مکروهاتو څخه نجات مومي، او په جنت کې به د هغوی مشغله ماسوا له تفریح او ساعت تېرۍ څخه بل شې نه وي، دوی به له خپلو ښځو سره یو ځای لکه شودې او شکره ګډه او خوښ او خوشال وي، په ډېره اعلی درجه ښایسته او ښکلو چپرکټونو او پالنګونو به هوسایي او آرام کوي، هر قسم مېوې دانې، مأکولات او مشروبات به دوی ته حاضر او مهیا وي، پس لنډه یې دا د هر هغه شي طلب ارزو او تمنّا چې د جنتیانو په زړونو کې وګرځي؛ همغه به ورته علی الفور وړاندې کیږي.

سَلَامٌ قَوْلًا مِّن رَّبٍّ رَّحِيمٍ ﴿٥٨﴾

وي به دوی ته سلام (چې وبه ویلی شي ورته) په ویلو سره له (طرفه د) رب رحم کوونکي.

تفسیر: یعنې د مهربان رحمان له جانبه به جنتیانو ته سلام وایه کیږي لکه چې د «ابن ماجه» په یوه روایت کې راغلي دي.

وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ ﴿٥٩﴾

او (وبه وایه شي چې) را جدا شئ نن ورځ ای مجرمانو (کافرانو له مؤمنانو څخه).

تفسیر: یعنې د جنتیانو په عیش او آرام کې تاسې له سره هیڅ برخه نه لرئ، ستاسې د هستوګنې ځای بېل دی، چې تل به همغلته اوسېږئ ای مجرمانو کافرانو !.

أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ ۖ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٦٠﴾ وَأَنِ اعْبُدُونِي ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾

آیا حکم نه وو کړی ما تاسې ته (په ژبو د رسولانو سره) ای ځامنو د آدم په دې سره چې عبادت مه کوئ تاسې د شیطان، بېشکه دغه شیطان تاسې ته دښمن دی ښکاره. او (داسې حکم مې نه وو کړی بلکه کړی مې وو) چې عبادت کوئ (یوائې) ځما، دغه (عبادت ځما) لاره ده سمه (چې جنت ته تللې ده).

تفسیر: یعنې د همدغې ورځې په نسبت مو تاسې د انبیاء الله په واسطه مکرر پوهولي وئ، او ویلي مو وو چې د لعین شیطان متابعت له سره مه کوئ !، چې ستاسې ښکاره او صریح دښمن دی، او هغه مو تر هغه پورې نه پریږدي څو مو په دوزخ کې وغورځوي، که ابدي نجات غواړئ؛ نو پر دغې سمې صافې لارې چې درښکاره او واضحه کړی شوې ده لاړ شئ، او یوائې د الله تعالی په عبادت او بندګۍ کې مشغول اوسئ !.

وَلَقَدْ أَضَلَّ مِنكُمْ جِبِلًّا كَثِيرًا ۖ أَفَلَمْ تَكُونُوا تَعْقِلُونَ ﴿٦٢﴾ هَٰذِهِ جَهَنَّمُ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٦٣﴾ اصْلَوْهَا الْيَوْمَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٦٤﴾

او خامخا په تحقيق ګمراه کړي وو (شيطان) له تاسې خلق ډېر، آيا پس نه يئ تاسې داسې چې عقل وچلوئ. (وبه ويلی شي منکرانو ته په آخرت کې) دا دوزخ دی هغه چې وئ تاسې چې (په دنيا کې) وعده يې درسره کړی شوې وه. ځئ ننوځئ په ده کې نن ورځ په سبب د هغې چې وئ تاسې (په دنيا کې) چې کافران کېدئ.

تفسير: يعنې افسوس چې سره له دومره نصيحت او پوهولو تاسې ونه پوهېدئ، او له غور او فکر او عقل څخه مو کار وانخيست، او دغه ملعون شيطان له تاسې يو لوی جمعيت ګمراه او بې لارې کړ، آيا تاسو دومره عقل او پوهه نه درلوده چې د دوست او دښمن په منځ کې فرق او تميز سره وکړی شئ؟.

اوس نو د خپل هغه حماقت او سفاهت نتائج او ثمرات وڅکئ ! دغه دی دوزخ درته تيار او منتظر دی، چې د هغه وعده مو له تاسې سره د کفر اختيارولو په تقدير کړې وه، د کفارو د هستوګنې ځای همدا دی، ځئ خپلو ځايونو ته او په کې الی الأبد پرېوځئ !.

الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَىٰ أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٦٥﴾

نن ورځ به مهر ووهو پر خولو د دوی، او خبرې به وکړي له مونږ سره لاسونه د دوی، او شاهدي به ورکړي پښې د دوی په هغو کارونو چې وو دوی چې کول به دوی (په دنيا کې).

تفسير: يعنې که نن دغه خلق پخپلو جرائمو باندې پخپلو ژبو سره هم اقرار او اعتراف ونکړي؛ نو څه به کيږي؟ مونږ د دوی پر خولو مهر لګوو، او د دوی لاسونو او پښو بلکه د دوی ابدانو پوستکيو ته به حکم ورکوو، څو د هغو د جرائمو بيان وکړي چې د دوی په ذريعه يې پر هغو ارتکاب کړي وو، لکه چې هر عضو د الله تعالی په قدرت په وينا راځي، او شهادت ورکوي، لکه چې الله جل جلاله فرمايي: ﴿حَتَّىٰ إِذَا مَا جَاءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ (۲۴ جزء د حم السجده سورت (۳) رکوع (۲۰) آيت)، او د همدغه سورت په (۲۱) آيت کې فرمايي: ﴿قَالُوا أَنطَقَنَا اللَّهُ الَّذِي أَنطَقَ كُلَّ شَيْءٍ﴾، او د نېکانو اعضاء شهادت ورکوي د دوی په طاعت او صلاح باندې.

وَلَوْ نَشَاءُ لَطَمَسْنَا عَلَىٰ أَعْيُنِهِمْ فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ فَأَنَّىٰ يُبْصِرُونَ ﴿٦٦﴾ وَلَوْ نَشَاءُ لَمَسَخْنَاهُمْ عَلَىٰ مَكَانَتِهِمْ فَمَا اسْتَطَاعُوا مُضِيًّا وَلَا يَرْجِعُونَ ﴿٦٧﴾

او که اراده فرمايلی وی مونږ؛ نو خامخا هواروالی به راوستلی وو مونږ پر سترګو د دوی پس وړاندې شوي به وو دوی هغې لارې ته (چې تل پرې تلل)، پس څرنګه به ليدلې وه دوی (هغه لاره). او که اراده فرمايلي وی مونږ؛ خامخا مسخ کړي به وو مونږ دوی په ځايونو خپلو کې، پس طاقت به يې نه وو د وړاندې تللو او نه به بېرته ګرځېدلی شو (شاته).

تفسير: يعنې لکه چې دوی ځمونږ له آيتونو څخه سترګې پټې کړي دي، که مونږ اراده فرمايلي وی؛ نو د سزا په ډول به مو د دوی ظاهري بصارت هم له دوی نه اخيست، او له دوی نه به مو خالص راانده جوړ کړي وی، چې د دې لوري او د هغه لوري لار به يې هم پرې نه ليدله، او هم هغسې چې دوی له شيطاني لارو څخه نه پر څنګ کيږي، او نه غواړي چې د الله تعالی پر لاره لاړ شي؛ مونږ قدرت لرو چې د دوی صورتونه بيخي مسخ او له اصلي حالت څخه يې واړوو، څو دوی د خپل کوم ضرورت لپاره بيخي له خپله ځايه پر خوځېدلو قادر نه وي.

وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي الْخَلْقِ ۖ أَفَلَا يَعْقِلُونَ ﴿٦٨﴾

او هر چا ته چې اوږد عمر ورکړو مونږ هغه ته؛ نو نسکور به کړو هغه په پیدایښت کې، آیا دوی د عقل څخه کار نه اخلي؟ (چې نه یواځې الله په عمر ورکولو او تنکیس، بلکه په بعث هم قادر دی).

تفسیر: یعنې د خپل بصارت فقدان او د صورت مسخ مستبعد مه ګڼئ !، آیا تاسې نه ګورئ او غور نه کوئ چې یو روغ رمټ او مضبوط انسان څه وخت چې زیات سپین ګیری او زوړ شي، څرنګه د لیدلو، اورېدلو، تللو، ګرځېدلو څخه معذور کیږي، ګواکې د هلکتوب په شان کمزور او ناتوانه ګرځي، او بیا د نورو کومک او معاونت او لاس نیولو ته لکه وړوکی محتاجیږي، او په زوړتوب کې همغه د وړوکتوب حالت او عادت له سره شروع کیږي، نو آیا هغه الله تعالی چې د دوی د دغه قوې په عطالت او ازاله په وړتوب او زړتوب کې قادر دی؛ په ځلمیتوب کې به نه وي مقتدر؟.

وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنبَغِي لَهُ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ وَقُرْآنٌ مُّبِينٌ ﴿٦٩﴾

او نه دی ښوولی مونږ دغه (محمد) ته شعر او نه ښایيږي ورلره (شعر ویل)، نه دی دغه (قرآن) مګر خالص ذکر پند دی او قرآن دی ښکاره کوونکی (د احکامو).

تفسیر: یعنې څه چې پاس بیان شو؛ ګرد حقائق دي، او کوم شاعرانه تخیّلات نه دي، د غه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مونږ د داسې یو عظیم الشأن قرآن احسان کړی دی، چې پر نصائحو او روښانو تعلیماتو معمور دی، کوم د شعر او شاعرۍ دېوان نه دی، چې په کې خالص طبع ازمویل، او د تخیل او مبالغې مظاهره وي، بلکه د محمد صلی الله علیه وسلم مبارکه طبع په فطري ډول سره د شاعرۍ له فنه دومره بعیده ده چې سره له دې چې دوی د قریشو له خاندانه څخه دي، چې د هغوی هر فرد حتا چې وینځو یې هم د شعر ویلو قدرت او طبیعي سلیقه لرله، مګر دوی پخپل مدّت العمر کې شعر نه دی جوړ کړی، البته په رجز او په نورو مواقعو کې به یو نیم ځلې د دوی د مبارکې ژبې څخه بې تکلفه مقفّی عبارت وتلی وي، چې د شعر خاصیت به ترې څرګندېده، چې ښایي دغه ترې مستثنی وګڼل شي، او نه ښایي چې پر دغو د شعر او شاعري اطلاق وکړي شې.

لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيًّا وَيَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٧٠﴾

چې وویروي (دغه قرآن یا نبي) هر هغه چې وي ژوندی، او ثابته شي خبره (د عذاب) پر کافرانو (چې قرآن نه مني).

تفسیر: یعنې د ژوندي زړه انسان د قرآن په اورېدلو سره له الله تعالی څخه وویریږي، او پر منکرانو د حجّت اتمام وشي.

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مَالِكُونَ ﴿٧١﴾

آیا نه ویني دوی (بلکه ویني دوی) چې بېشکه مونږ پیدا کړي مو دي دوی ته له هغه چې جوړ کړي دي لاسونو ځمونږ چارپایان، پس دوی د هغوی مالکان (واکداران) دي.

تفسیر: له تنزیلیه آیتونو څخه وروسته بیا د تکوینیه آیتونو په طرف توجه ورکوي، یعنې له یوه جانبه د لوی قرآن پندونه او نصائح واورئ، او له بل طرفه په غور او دقّت سره وګورئ چې پاک الله څرنګه انعام او احسان پر تاسې فرمایلی دی،

اوښ، غوايي، اس، کچر، پسه او نور ساکښان تاسې نه دي پيدا کړي، بلکه دغه ګرد پخپله پاک الله ستاسې د فائدې او ګټې لپاره پيدا کړي دي، او بيا يې تاسې محض پخپل فضل او کرم سره د هغو مالکان ګرځولي يئ، چې ترې وخورئ، او ترې هر راز کار چې مو زړه غواړي؛ واخلئ، او ترې په هر ډول منتفع شئ !.

وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوْبُهُمْ وَمِنْهَا يَاْكُلُوْنَ ﴿۷۲﴾ وَلَهُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ ۭ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۷۳﴾

او ذليل عاجز ايل کړي مو دي دغه (چارپايان) دوی ته، پس ځينې له دوی د سورلی د دوی دي، او له ځينې د دوی خوري. او شته دوی ته په دغو انعامو کې نفعې ډېرې د ځښلو (شيان)، آيا پس دوی شکر نه وباسي (په نعماوو)؟.

تفسير: وګورئ چې څومره لوی او عظيم الجثه او قوي هيکله حيوانان د ضعيف البنيان انسان په مقابل کې عاجزان او ناتوانان او ټول ده ته مسخّر او تابعان دي، د زرهاوو اوښانو يو قطار (لړ) يو وړوکي هلک هر چېرې چې وغواړي؛ بيايي، او دوی د پوزې له نکېله راکاږي، او دوی د دغه وړوکي په مقابل کې خپل غوږ هم نه خوځوي، او پر څومره قوي او زورورو حيواناتو انسانان سوريږي، پيټي پرې وړي، او ډېر حيوانات حلالوي، او له غوښو او نورو اجزاوو څخه يې منتفع کيږي، علاوه پر غوښې د دوی له پوستکيو، هډوکيو، وړيو، ويښتانو او نورو څخه څومره فائده حاصلولی شي، د دوی غلانځې داسې دي لکه د شودو چينې چې د همدغو چينو له اوبو خور څخه ډېر انسانان خړوبيږي، خو سره له دې شکر ايستونکي بندګان ډېر لږ دي.

وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لَّعَلَّهُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۷۴﴾ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَهُمْ وَهُمْ لَهُمْ جُنْدٌ مُّحْضَرُوْنَ ﴿۷۵﴾

او نيولي دي (دغو مشرکانو) بې له الله (نور) معبودان چې ښايي دوی سره به مدد وکړی شي. نه لري (طاقت) (دغه معبودان) د نصرت له دوی سره حال دا چې دغه (معبودان) به دوی ته لښکرې حاضرې کړی شوي وي (په دوزخ کې).

تفسير: يعنې هغه الله چې دغسې نعمتونه يې تاسې ته عطاء او مرحمت کړي دي؛ د هغه شکريه تاسې په دې ډول سره اداء کوئ چې د ده په مقابل کې مو نور معبودان او اختيار لرونکي ودرول، او د دوی په نسبت داسې عقيده لرئ چې ګواکې دوی د احتياج په وخت کې ځمونږ په کار راځي او په درد خوري، او راسره امداد او مرستې کوي، نو په يادې ولرئ چې هغوی به ستاسې سره څه کومک او مرستې وکړی شي؟ حال دا چې دوی خپلو ځانونو ته هم څه نفعه او ګټه نشي رسولی، هو ! څه وخت چې تاسې امداد او معاونت ته سخت محتاج اوسئ؛ په همدغه وخت کې پر تاسې نور الزامات او جرمونه هم اړوي، او ستاسې پيټي لا درنوي، نو هلته به تاسې ته دغه خبره ښکاره شي چې د هغو معبودانو په طرفداری او حمايت چې تاسې خپل ګرد عمر مصرف کړی وو؛ نن هغوی په کومه سترګه تاسې ته ګوري؟

فَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ اِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿۷۶﴾

پس نه دې غمجن کوي تا خبرې د دوی (په دې چې ته رسول نه يې)، بېشکه مونږ ته معلوم دي هغه (حسد او بغض) چې پټوي يې دوی او هغه (کفر او عناد) چې ښکاره کوي يې دوی.

تفسير: يعنې کله چې پخپله له مونږ سره د دوی سلوک او معامله داسې ده؛ نو تاسې له سره مه غمجن او مه خفه کېږئ !، او خپله فريضه په ښه ډول سره اداء کړئ ! او دوی مونږ ته پرېږدئ ! مونږ د دوی له ظاهري او باطني احوالاتو څخه ښه واقف او خبردار يو، او په ډېر ښه شان سره د دوی حساب او کتاب اخلو، او لازمه احکام د دوی په نسبت صادروو.

أَوَلَمْ يَرَ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٧٧﴾

آيا نه وينې نه پوهيږي انسان چې بېشکه مونږ پيدا کړی مو دی هغه له نطفې (يوه څاڅکي اوبو) پس ناڅاپه دی سخت جګړه کوونکی ښکاره دی.

تفسير: يعنې انسان خپل اصليت او ماهيت ته نه ګوري، چې دی د نا څيزو اوبو يو څاڅکی وو چې د الله تعالی په قدرت له څه شي څخه څه شی ترې جوړ شوی دی؟، د اوبو دغه څاڅکي ته الله تعالی داسې نطق او بيان ورعطاء کړ چې دی اوس پر هره يوه خبره جګړې او مناقشې کوي، او له خپله ځانه راز راز خبرې او اترې جوړوي، تر دې اندازې پورې چې نن له خپله حده متجاوز شوی، د خپل لوی خالق په مقابل کې هم تېنګ او ولاړ دی.

وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ ۖ قَالَ مَن يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ ﴿٧٨﴾

او ترې پر مونږ پورې مثل (د هډوکي وراسته)، او هېر کړی يې دی پيدايښت خپل، وايي: څوک به ژوندي کړي هډوکي حال دا چې هغه وراسته دي.

تفسير: يعنې وګورئ، چې دوی پر الله تعالی څرنګه خبرې ترې؟ ګويا هغه مطلق قادر د عاجز مخلوق په شان فرضوي، او داسې وايي: کله چې ځمونږ اجساد وراسته شي، او بيخي وريژي، يوائې وراسته او زاړه هډوکي او ککره مو پاتې شي؛ نو آيا دغه شيان بيا څوک ژوندي کولی شي؟ د دغسې سوال کولو په وخت کې دوی ته د دوی اصلي پيدايښت نه په يادېږي، که نه دغه ناڅيزه څاڅکي ته به د دغه الفاظو د ويلو جرأت نه وی پيدا شوی، ښايي چې دی خپل اصل او ماهيت ته نظر وکړي !، او لږ دې وشرميږي !، او لږ څه دې له خپله عقله او پوهې کار واخلي !، ښکاره ده چې په دغه تقدير به دی پخپله د دغو سوالاتو هغه ځواب ومومي چې په دغه راتلونکي آيت کې مذکور دی.

قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ﴿٧٩﴾

ووايه (ای محمده ده ته) بيا به ژوندي کړي دغه (وراسته هډوکي) هغه (مطلق قادر) چې پيدا کړي يې دي اول ځلي حال دا چې دغه (الله) په هر قسم پيدايښت ښه عالم دی (که نوی وي او که زوړ).

تفسير: يعنې هغه لوی ذات چې اول ځلي يې په دغو هډوکو کې روح غورځولی دی، هغه ته دويم ځلي په دوی کې روح اچول څه سختي او اشکال نه لري، بلکه ستاسې په زعم دغه دويم ځلي ژوندي کول د اول ځلي ژوندي کولو په نسبت لا سهل او اسان دي: ﴿وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ﴾ حال دا چې هغه مطلق قادر ته هر شی اسان دی، اعم له دې چې اول ځلي وي که دويم ځلي، دی په هر ډول سره په پيدا کولو قادر او مقتدر دی، او د بدن اجزاء او د هډوکو بڅرکي هر چېرې چې تيت او پرک وي؛ د هغه هره هره ذره د ده په محيط علم کې ده، او هغه يې پخپل موعد بيا ټولوي او ژوندي کوي.

الَّذِي جَعَلَ لَكُم مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَا أَنتُم مِّنْهُ تُوقِدُونَ ﴿٨٠﴾

هغه (مطلق قادر) چې پيدا کړی يې دی تاسې ته له ونې شنې څخه اور، پس ناڅاپه تاسې له هغې ونې څخه بلوئ اور.

تفسير: يعنې رومبی يې له اوبو څخه تکه شنه او خړوبه ونه زرغونه کړه، بيا د دغې تکې شنې او ښکلې ونې لرګي يې وچ او خس يې وګرځوله، چې اوس تاسې له هغې څخه اور وباسئ، پس هغه الله جل جلاله چې دغسې متضاد صفات

په اول او آخر کې بدلولی شي، آیا دی به د یوه څیز په موت او حیات او په لاندې باندې کولو او اړولو رااړولو څرنګه قادر او توانا نه وي !؟.

تنبیه: ځینو اسلافو له ﴿مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ﴾ څخه هغه خاصه ونه مراده کړې ده، چې د هغې له ځانګو څخه کله چې یوه په بلې باندې ومښلی شي؛ اور وځي، لکه چې ځمونږ په مشرقي جلال آباد کې د (بانس) ونه یا په عربو کې د (مرخ) او (عفار) ونې دي، والله أعلم.

أَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُم ۚ بَلَىٰ وَهُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيمُ ﴿٨١﴾

آیا نه دی هغه ذات چې پیدا کړي یې دي اسمانونه او ځمکه قادر په دې باندې چې پیدا کړي په شان د دوی؟ هو ! (قادر دی په دې باندې)، او همدی دی اصلي ډېر پیدا کوونکی (د مخلوقاتو ښه عالم (پر هر شي باندې).

تفسیر: یعنې هغه لوی ذات چې د اسمان او ځمکې په شان لویې لویې کُرې یې پیدا کړي دي، هغه ته د دغسې کفارو په شان د وړوکو وړوکو شیانو پیدا کول له سره مشکل نه دي.

إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَن يَقُولَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾

بېشکه همدا خبره ده چې امر حکم د الله هر کله چې اراده وفرمایي (د پیدا کولو) د یوه څیز دا دی چې وفرمایي هغه ته چې (جوړ) شه ! نو (جوړ) شي.

تفسیر: یعنې د کوم لوی یا وړوکي شي په اول یا دویم ځلي پیدا کولو کې الله تعالی ته هیڅ یو اشکال او دقّت نشي وړاندې کېدی، د ده له جانبه خو تش یوه اراده په کار ده، هر کله چې دی د کوم شي د پیدا کولو اراده وفرمایي؛ هغه له علی الفور څخه هم وړاندې پیدا کیږي، او د یوې رپې ډیل او تأخیر هم په کې امکان نه لري.

فَسُبْحَانَ الَّذِي بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾

پس پاکي ده هغه (الله) ته چې په لاس د ده کې ده باچاهي د هر څیز او خاص همده ته بېرته بیا بیولي کېږئ (په آخرت کې لپاره د جزاء).

تفسیر: یعنې لوی معبود چې د ده په لاس کې في الحال هم د ټکردو علویّاتو او سفلیّاتو د مخلوقاتو د حکومت واک او زمام (واګې) شته؛ په مستقبل کې هم ټکرد د هم هغه په لوري ورتلونکي او رجوع کوونکي دي، او پاک الله د عجز او سفه او نور هر قسم عیب او نقص څخه په کُلي ډول منزّه او پاک دی.

تمت سورة یسٓ، ولله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الصَّافَّاتِ

«د (الصافات) سورت مکي دی، (۱۸۲) آیته او (۵) رکوع لري، په تلاوت کې (۳۷) او په نزول کې (۵۶) سورت دی، وروسته د (الأنعام) له سورته څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَالصَّافَّاتِ صَفًّا ﴿١﴾ فَالزَّاجِرَاتِ زَجْرًا ﴿٢﴾

قسم دی پر (هغو پرښتو چې) صف ترونکې دي په صف ترلو سره. بیا پر (هغو) شړونکیو د (شیطانانو) په شړلو سره.

تفسیر: یعنې چې صف تړي قطار قطار، او په منظم ډول سره ودریږي، که پرښتې وي چې د الله تعالی د احکامو د اورښدلو لپاره پخپلو ځایونو کې درجه په درجه ودریږي، یا عبادت کوونکي انسانان وي چې په لمانځه او جهاد او نورو کې سره صفونه تړي.

تنبیه: په محاوراتو کې قسم د تأکید لپاره دی، چې علی الأکثر د منکرانو په مقابل کې استعمالیږي، لیکن ډېر اوقات محض د یوه مضمون د مهتم بالشأن ظاهرولو لپاره هم استعمالیږي، او د قرآنکریم قسمونه پر متبعینو ظاهریږي، چې عموماً مقسم به مقسم علیه ته د یوه شاهد یا دلیل په ډول وي، والله أعلم.

﴿فَالزَّاجِرَاتِ زَجْرًا﴾ «بیا پر هغو شړونکیو د شیطانانو په شړلو سره»، یعنې هغه پرښتې چې شیطانان رټي او شړي یې، څو د خپلو استراق السمع په اراده کې بریالیان او کامیاب نشي، یا بندګانو ته د نېکۍ او فضائلو لاره ښییِ، او له بدۍ او رذائلو څخه یې منع کوي، یا هغه نېک انسانان چې خپل ځان له بدیو څخه ساتي، او نورو ته هم د بدۍ او شرارت په خلاف پند او نصیحت او زجر ورکوي، بالخاصه د جهاد په ډګر او د کفارو په مقابل کې چې د دوی زجر، تهدید او توبیخ لا زیات وي.

فَالتَّالِيَاتِ ذِكْرًا ﴿٣﴾ إِنَّ إِلَٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ﴿٤﴾

بیا په هغو لوستونکیو په ذکر کولو سره. چې بېشکه معبود ستاسې خامخا یو دی.

تفسیر: یعنې هغه پرښتې یا انسانان چې د الله تعالی احکام وروسته له اورښدلو څخه لولي او یادوي یې، څو یې نورو ته هم وروښوولی شي.

﴿إِنَّ إِلَٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ﴾ «چې بېشکه حق معبودِ ستاسې خامخا یو دی»، بېشکه په اسمانونو کې پرښتې او په ځمکه کې د الله تعالی نېک بندګان په هره زمانه کې قولاً او فعلاً شهادت ورکوي، چې د ټولو مالک او حقیقي معبود هغه یو الله دی چې مونږ ټول د هم هغه بندګان او تابعان او رعایا یو.

رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ﴿٥﴾

چې رب د اسمانونو او ځمکې دی، او د هغو (شیانو) دی چې په منځ د دوی کې دي، او رب د مشرقونو (او د مغربونو او نورو دی).

تفسیر: له شمال څخه تر جنوب پورې یو طرف «مشرقین» دي، ځکه چې لمر ـ قمر او نجوم هره ورځ او هره شپه له بېلو بېلو ځایونو څخه را څرګندیږي، یعنې هغه نقاط چې له هغو ځایونو څخه طلوع کیږي، او بل طرف یې په هغومره اندازې «مغربین» دي، ښایي دلته د مغاربو ذکر یې د دې لامله نه وي کړی چې له «المشارق» څنې د مقابل طرف په اعتبار پخپله فهمیږي، او له یوه حیثیته طلوع الشمس او الکواکب ته د الله د حکومت د شان او عظمت په اثبات کې د دوی د غروب په نسبت زیات اثر او دخل شته، والله أعلم.

إِنَّا زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِزِينَةٍ الْكَوَاكِبِ ۝٦

بېشکه مونږ ښایسته کړی مو دی دغه اسمان نژدې په ښایست سره چې ستوري دي.

تفسیر: یعنې په تیارو شپو کې دغه اسمان د دغو بېحسابو ستوریو د ځلېدلو څخه د کتونکیو په سترګو څومره ښایسته او ښکلی، مزین او ډک له سینګاره او رونقه معلومیږي.

وَحِفْظًا مِّن كُلِّ شَيْطَانٍ مَّارِدٍ ۝٧

او ساتلی دی (مونږ دا اسمان) په ساتنې سره له هره شیطانه سرکښه نافرمانه (چې ویشتلی شي په لمبو سره).

تفسیر: یعنې په دغو ستوریو کې د اسمان زینت او ښایست دی، او له ځینو ستوریو څخه چې رالویږي د شیاطینو په انسداد او اندفاع کې هم کار اخیست کیږي.

لَا يَسَّمَّعُونَ إِلَى الْمَلَإِ الْأَعْلَىٰ وَيُقْذَفُونَ مِن كُلِّ جَانِبٍ ۝٨ دُحُورًا

غوږ نه شي نیولی (دغه شیاطین) طرف (د خبرو) د هغه پورته ډلې او ټولې ته، او ویشتلی غورځولی شي له هر طرفه (د اسمانه چې دوی اراده وکړي د هغه د ختلو). لپاره د شړلو.

تفسیر: له پاس مجلس څخه د پرښتو مجلس مراد دی، یعنې شیاطینو ته د دې خبرې قدرت نه دی ورکړی شوی چې د پرښتو مجلس ته ځان ورسوي، او د الله تعالی له وحي څخه کومه خبره واوروي، کله چې شیاطین داسې اراده وکړي، او پاس اسمانونو ته د ورنژدې کېدلو کوښښ وکړي؛ نو هر طرف ته چې دوی ورځي؛ له هغه ځایه یې پرښتې شړي، او په وهلو او ویشتلو سره یې لاندې غورځوي.

وَلَهُمْ عَذَابٌ وَاصِبٌ ۝٩

او شته دوی ته عذاب دائم سخت.

تفسیر: یعنې په دنیا کې دوی تل تر تله شړل او رټل کیږي، د دوی اخروي عذاب خو ببل دی.

إِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ۝١٠

مګر (غوږ نیسي) هغه (شیطان) چې غوټه واچوي په یو کرت غوټه اچولو، (یعنې مګر هغه څوک چې وتښتوي یوه خبره په تښتولو) پس ژر ورپسې راخطا شي لمبه رڼا کوونکې سوځوونکې.

تفسیر: یعنې په همدغو تښتېدلو او ځغلېدلو کې د وېرې او وارخطایۍ په منځ کې یوه نیمه خبره اوري، خو سره له هغه پرښتې په شهاب ثاقب سره د دوی تعاقب کوي، د دې تفسیر د «حجر» د سورت په ابتداء کې پخوا لیکلی شوی دی.

فَاسْتَفْتِهِمْ أَهُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ۗ

پس وپوښته ته دغه مشرکان چې آیا دوی سخت دي له جهته د پیدایښت که هغه څوک چې مونږ پیدا کړي دي؟.

تفسیر: یعنې د بعث له منکرینو څخه پوښتنه وکړئ چې د اسمان، ځمکې ستوریو، پرښتو، شیاطینو او د نورو مخلوقاتو پیدا کول د دوی په خیال کې زیات مشکل کار دی، یا پخپله د دوی پیدا کول؟ او هغه هم وروسته له یو ځلي پیدا کولو څخه، ظاهر دی هغه الله تعالی ته چې د داسې عظیم الشأن مخلوقاتو خالق دی؛ دویم ځلي پیدا کول هم هیڅ اشکال نه لري.

إِنَّا خَلَقْنَاهُم مِّن طِينٍ لَّازِبٍ ﴿١١﴾

بېشکه مونږ پیدا کړي مو دي دوی له ختې سرېښنا کې.

تفسیر: یعنې د دوی اصلي حقیقت مونږ ته ټول معلوم دی، له یو شان سرېښنا کې ختې څخه مونږ د دوی د نیکه کالبوت جوړ کړ، اوس د هغه اولاده داسې دعوی کوي چې د اسمان او د ځمکې پیدا کوونکی د دوی په بیا پیدا کولو نه دی قادر، همغسې چې مونږ اول ځلي تاسې له خاورو څخه پیدا کړي یئ؛ دویم ځلي به هم تاسې له خاورو څخه بیا ژوندي راپاڅوو.

بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُونَ ﴿١٢﴾

بلکه ته تعجب کوې (د دوی پر تکذیب او انکار)، حال دا چې مسخرې کوي دوی (پر تا پورې).

تفسیر: یعنې ته تعجّب کوې چې دوی ولې پر داسې صافو خبرو نه پوهیږي؟ او دوی ټوکې او مسخرې کوي چې دغه (نبي) څرنګه چتې خبرې کوي؟ (العیاذ بالله).

وَإِذَا ذُكِّرُوا لَا يَذْكُرُونَ ﴿١٣﴾ وَإِذَا رَأَوْا آيَةً يَسْتَسْخِرُونَ ﴿١٤﴾ وَقَالُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾

او هر کله چې وپوهول شي دوی نه پوهیږي (پند نه اخلي). او هر کله چې ووینې دوی کومه نښه دلیل؛ نو مسخرې پرې کوي. او وایي (منکران) چې نه دی دا (چې مونږ ولید) مګر سحر کوډې دي ښکاره.

تفسیر: یعنې کله چې پند او نصیحت اوري؛ پرې غور او فکر نه کوي، او هغه د قدرت د دلائلو نښې او معجزې چې ګوري؛ هغو ته د کوډو او د سحر نسبت کوي، او پرې خاندې تمسخر او پوچنډې کوي، او غواړي چې بلا اثر یې وګرځوي.

أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿١٦﴾ أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ ﴿١٧﴾

(او وایي منکران) آیا هر کله چې مړه شو او شو خاورې او (وراسته) هډوکي؛ آیا مونږ به خامخا بیا ژوندي راپاڅول کیږو. که پلرونه ړومبني ځمونږ (هم را ژوندي کیږي؟).

تفسیر: د دوی همغه یوه خبره زده ده، چې صاحبه ! کله چې ځمونږ وجود له خاورو سره یو ځای شو، او یواځې ځمونږ هډوکي پاتې وي، او له دې نه زیات ځمونږ پلار نیکه چې د هغوی له مړینې څخه قرنونه تېر شوي دي، او

ښايي چې هډوکي يې هم نه وي پاتې؛ نو دغه څرنګه منلی شو چې دغه ټول له سره راټولیږي، او بیا له سره ژوندي راپاڅولی کیږي؟.

قُلْ نَعَمْ وَأَنتُمْ دَاخِرُونَ ﴿١٨﴾ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ فَإِذَا هُمْ يَنظُرُونَ ﴿١٩﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) هو ! (ټول راژوندي کیږئ) حال دا چې تاسې به ذلیل هم یئ. پس بېشکه همدا خبره ده چې دغه قیامت چغه ده یوه، پس ناڅاپه دوی به ګوري (چې څه راپورې کیږي).

تفسیر: یعنې هو ! ضرور هغوی ګرد بیا ژوندي راپاڅول کیږي، او هلته به په نهایت ذلت او رسوایی سره د دغه تکذیب او انکار ربّ او سزا مومي.

وَقَالُوا يَا وَيْلَنَا هَٰذَا يَوْمُ الدِّينِ ﴿٢٠﴾

او وایي به (منکران) ای خرابي ده مونږ ته ! (نو وایي به ملائکې دوی ته): دا خو هغه ورځ ده د جزاء.

تفسیر: یعنې په یوه چغه سره به ټول سره ژوندي راپاڅولی کیږي، او له ډېر حیرت او دهشت څخه به یو طرف او بل طرف ته ګوري (دغه چغه یا جګړې ورکول به د صور د نفخې په ذریعه وي).

هَٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ الَّذِي كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿٢١﴾

دا هم هغه ورځ د فیصلې (او قضاء) ده هغه (ورځ) چې وئ تاسې چې په دې باندې به مو نسبت د دروغو کاوه، (او باور مو پرې نه کاوه چې رابه شي).

تفسیر: یعنې دغه خو په واقعي او ربښتیا سره د جزاء ورځ راورسېده، چې د هغې اطلاع او خبر مونږ ته انبیاء الله راکړی وو، او مونږ به پرې مسخرې کولې.

احْشُرُوا الَّذِينَ ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوا يَعْبُدُونَ ﴿٢٢﴾

(وبه فرمایي الله ملائکو ته چې) راټول کړئ تاسې هغه کسان چې ظلم یې کړی وو (په ځانونو خپلو په انکار او په شرک سره) او (کافراني) ښځې (یا شیطانان ملګري) د دوی، او هغه چې وو دوی چې عبادت به یې کاوه د نورو معبودانو.

تفسیر: دغه خطاب به د الله تعالی له طرفه کیږي.

مِن دُونِ اللَّهِ فَاهْدُوهُمْ إِلَىٰ صِرَاطِ الْجَحِيمِ ﴿٢٣﴾

بې له الله پس روان کړئ برابر کړئ دوی لارې د دوزخ ته (او دوزخ ته یې ورسوئ).

تفسیر: دغه حکم به پرښتو ته ورکاوه کیږي چې دغه ګرد سره راټول کړئ !، او د دوزخ لاره وروښیئ.

تنبیه: له «أزواج» یا جوړې څخه د یوې نوعې یا صنف ګناهګاران مراد دي، یا به د دوی کافرې ښځې مرادې وي، او له ﴿وَمَا كَانُوا يَعْبُدُونَ * مِن دُونِ اللَّهِ﴾ څخه اصنام، شیاطین او نور مراد دي.

وَقِفُوهُمْ إِنَّهُم مَّسْئُولُونَ ﴿۲۴﴾

او ودروئ دوی (په دغې لارې کې) بېشکه دوی پوښتپدلی شي (يعنې ترې پوښتنه کيږي د اقوالو او افعالو د دوی).

تفسير: له حکم څخه وروسته به لږ څه هلته درول کيږي، څو له دوی څنې هغه سوال او ځواب وکړی شي، چې وروسته له دې نه په ﴿مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُونَ﴾ کې مذکور دی.

مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُونَ ﴿۲۵﴾ بَلْ هُمُ الْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُونَ ﴿۲۶﴾

څه مانع ده تاسې ته چې مرسته (مدد) نه کوئ يو له بل سره (په خلاصې کې لکه چې کوله مو په دنيا کې). (هيڅ نشي کړی) بلکه دوی نن ورځ پخپله خپل ځانونه تسليموي (او ذليل) دي.

تفسير: يعنې په دنيا کې به تاسې ﴿نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ﴾ ويل چې مونږ يو له بل سره مرستې کونکي او مددګاران يو، نن پر تاسې څه شوي دي چې يو له بله سره هيڅ امداد او معاونت نه کوئ؟ بلکه هر يو له تاسې بې له دې نه چې لږ څه خپل غوږ وخوځوئ په نهايت ذلت او حقارت سره نيول او راوستل کيږئ.

وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿۲۷﴾ قَالُوا إِنَّكُمْ كُنتُمْ تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ ﴿۲۸﴾

اومخ به وګرځوي ځينې د دوی پر ځينو نورو (کشرانو او مشرانو) پوښتنه به کوي دوی يو له بله. وبه وايي (کشران مشرانو ته) چې بېشکه تاسې وئ تاسې (په دنيا کې) چې راتلئ به مونږ ته له جانبه د قسم (يا زور او قوّت).

تفسير: په «يمين ـ ښي لاس» کې عموماً د پر زور او قوت وي، يعنې همدا تاسې وئ چې پر مونږ باندې به راتلئ، ځمونږ د ګمراه کولو لپاره او د خپل زور او قوّت رابسوولو په نسبت، يا له يمين څخه مراد د خير او برکت په جانب نيول دي، يعنې همدا تاسې وئ چې راتلئ او غلبه به مو کوله پر مونږ باندې چې له نېکۍ او ښېګڼې څخه مونږ واپس شو، يا وئ تاسې چې راتلئ به په نصائحو او ښو غوښتنو سره چې نېک به وو په ګمان ستاسې سره، يا له جانبه د قسمه چې مونږ په حق دين يو، دغه خبرې او اترې به د تابعانو او متبوعينو (مشرانو او کشرانو) په منځ کې سره کيږي.

قَالُوا بَل لَّمْ تَكُونُوا مُؤْمِنِينَ ﴿۲۹﴾ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ ۚ بَلْ كُنتُمْ قَوْمًا طَاغِينَ ﴿۳۰﴾ فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَا ۖ إِنَّا لَذَائِقُونَ ﴿۳۱﴾ فَأَغْوَيْنَاكُمْ إِنَّا كُنَّا غَاوِينَ ﴿۳۲﴾

وبه وايي (متبوعان تابعانو ته: نه ده داسې) بلکه نه وئ تاسې پخپله ايمان راوړونکي. او نه وو مونږ ته پر تاسې باندې هيڅ زور، تسلّط، بلکه وئ تاسې يو قوم سرکښه (له حده وتونکی ځمونږ په شان). پس ثابته شوه پر مونږ خبره د رب ځمونږ، بېشکه مونږ خامخا څکونکي يو (د عذاب). پس مونږ ګمراه کړئ تاسې، بېشکه (لکه) چې مونږ وو ګمراهان.

تفسير: يعنې تاسې خو پخپله ايمان نه راوړ، اوس د هغه الزام او ملامتي پر مونږ باندې غورځوئ، مونږ خو څه زور او زياتی نه وو کړی، نو ځمونږ پر خبرو به مو له سره غوږ نه کېښود، مونږ خو ظاهر باهر ګمراهان، او بې لارې رڼلي شوي شيطانان يو، او دغه خبره ظاهره او څرګنده ده چې له يوه ګمراه څخه ماسوا له ګمراهۍ او د ضلالت په طرف له بلنې څخه بل شی نه متوقع کيږي، مونږ همغه شی کړی دی چې ځمونږ له حاله سره وړ او مناسب وو، ليکن پر تاسې څه بلا او آفت لوېدلی

وو چې ځمونږ په لمسون وغولېدئ؟ او د شیطاني حکمونو اطاعت مو وکړ؟ په هر حال هر هغه شی چې کېدونکی وو؛ هغه وشو، او د الله تعالی حجّت پر مونږ قائم شو، او د ده همغه خبره ﴿لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ﴾ الآیة ـ کامله تثبیته شوه، نن مونږ او تاسو ټول سره یو ځای د خپلو بدو افعالو او بدو چارو او غلطو کارونو خوند او مزه څکونکي یو، او د دوزخ د سختو عذابونو موندونکي یو.

فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٣﴾

(نو فرمایي الله) پس بېشکه چې دوی نن ورځ په عذاب کې سره شریکان دي.

تفسیر: یعنې ټول مجرمان به درجه په درجه په عذاب کې هم همغسې شریکېږي، لکه چې جرم او ګناه کې سره ملګري او شریکان وو.

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٣٥﴾

بېشکه مونږ همداسې (لکه چې له دوی سره مو وکړ)؛ کوو له ټولو مجرمانو سره. بېشکه دوی وو کله چې وبه ویل شو دوی ته چې نشته بل بر حق معبود هیڅوک مګر الله دی؛ نو تکبّر به یې کاوه (له ویلو د کلمې نه یا کبر او لویي کوي دوی په دې بلونکي باندې).

تفسیر: یعنې د دوی کبر او غرور مانع دي چې د نبيّ الله له ارشاد سره سم د «لا اله الا الله» پاکه کلمه پر خپلې ژبې راوړي، چې په هغې سره د دروغو معبودانو نفي کېږي، اګر که په زړه کې هغه رښتین ګڼي.

وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوا آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَجْنُونٍ ﴿٣٦﴾ بَلْ جَاءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِينَ ﴿٣٧﴾

او وایي (دغه منکران) چې آیا بېشکه مونږ خامخا پرېښودونکي یو د (معبودانو) خپلو لپاره د یو شاعر لیونې؟. (الله فرمایي په تردید د منکرانو: نه ده داسې) بلکه راغلی دی (محمد) په حق (دین) سره او رښتین بولي (محمد ټول پخواني) رسولان.

تفسیر: یعنې د شاعرانو دروغ خو مشهور دي، نو دغسې صدیق او امین ذات ته څرنګه تاسې شاعر وایئ؟ چې دنیا ته حقیقي رښتیا او صداقت همدوی له خپله ځان سره راوړی دی، او د ګرد جهان د صدیقانو او رښتینو تصدیق کوي، آیا لیونی او مجنون هم داسې رښتیا او صافې صافې خبرې کوي؟ او دغسې صحیح او پاخه اصول دروړاندې کولی شي؟.

إِنَّكُمْ لَذَائِقُوا الْعَذَابِ الْأَلِيمِ ﴿٣٨﴾ وَمَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٣٩﴾

بېشکه چې تاسې خامخا څکونکي یئ د عذاب دردناک (په سبب د شرک او تکذیب خپل). او جزاء به نه درکوله کېږي تاسې ته مګر په قدر د هغه (عمل) چې وئ تاسې چې کاوه به مو (په دنیا کې).

تفسیر: یعنې د توحید د انکار او د دغو بې ادبیو او ګستاخیو خوند اومزه به وڅکئ چې د رسالت په دربار کې یې کوئ، هر څه چې کوئ د هغه ګرد نتائج او ثمرې هرومرو یوه ورځې ستاسې په مخ کې راتلونکې دي.

إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾

مګر هغه بندګان د الله چې پاک کړی شوي دي (له پلیتی نه؛ نو ډېره ښه مضاعفه جزاء به مومي).

تفسیر: یعنې د دې مخلصینو په نسبت څه وویل شي، د دوی وضعیت او حالت خو بیخي له هغوی څخه جلا او متمایز او کامل بل قسم دی، او پر دوی د الله تعالی کرم او احسان نازلیږي، او د داسې انعاماتو مورد ګرځي، چې ځینې یې دغه دي:

أُولَٰئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ ﴿٤١﴾ فَوَاكِهُ

دغه (مخلصین چې دي) شته دوی ته رزق روزي معلومه (رنګا رنګ) میوې.

تفسیر: یعنې داسې عجیبې او غریبې میوې د خوړلو لپاره دوی ته وړاندې کیږي، چې د هغوی پوره صفت او خاصیت فقط الله تعالی ته معلوم دی، هو ! د هغو لږ څه لنډ او مختصر تعریف یې په دې صورت سره خپلو بندګانو ته ښوولی دی چې: ﴿لَّا مَقْطُوعَةٍ وَلَا مَمْنُوعَةٍ﴾ (۲۷ جزء د الواقعه سورت (۱) رکوع، (۳۳) آیت).

وَهُم مُّكْرَمُونَ ﴿٤٢﴾

او دوی ته به عزّت ورکړی شوی وي.

تفسیر: په دې باندې پاک الله سبه پوهیږي چې څومره لوی اعزاز او اکرام او احترام به وي.

فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿٤٣﴾ عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَابِلِينَ ﴿٤٤﴾ يُطَافُ عَلَيْهِم بِكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴿٤٥﴾ بَيْضَاءَ لَذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ ﴿٤٦﴾ لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنزَفُونَ ﴿٤٧﴾

په جنتونو ودانو له نعمتونو کې. (ناست به وي) پر تختونو سره مخامخ (چې هر یو د بل له لیدلو څخه خوشالیږي). ګرځولی به شي پر دوی (له طرفه د سقاتو د جنت). له جامونو د صافو شرابو. تک سپین خوند ورکوونکي لپاره د څښونکیو. نه به وي په دغو شرابو کې څه آفت علت او نه به وي دوی له هغو شرابو څخه مست بېخوده.

تفسیر: یعنې خوند، مزه او نشاط به یې پوره وي، او د هغو مضارو او مفاسدو به هیڅ یوه نښه او اثر هم په کې نه وي چې په دنیوي شرابو کې شته، د دغو طهورو شرابو له څښلو څخه به د سر درندوالی او نشه نه پیدا کیږي، ینې او سګی به نه خرابوي، او نه به یې ویالې وچیږي.

وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ عِينٌ ﴿٤٨﴾ كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ ﴿٤٩﴾

او وي به په نزد د دوی کې حورې نظر بندوونکې په خپلو خاوندانو، غټې سترګې لرونکې. ګواکې دوی هګۍ دي پټې ساتلې شوې (په صفایی کې).

تفسیر: یعنې له ډېره شرمه او نازه ښکته کتونکی حورې چې ماسوا له خپلو میړو (خاوندانو) بل هیچا ته نه ګوري، او نه سترګې وراړوي.

د دې حورو رنګونه به ډېر صاف او شفاف وي په شان د هغو تکو سپینو هګیو چې الوتونکي یې تر خپلو وزرو لاندې پټې ساتي، نه به پرې کوم داغ لګېدلی وي، او نه به څه ګردغبار او دوړې پرې لوېدلې وي، یا د هغو نریو پردو په شان تکې سپینې او پستې او نازکې وي، چې د هګۍ د پوستکي په منځنی برخه کې د سپینې برخې او پوټکي په منځ کې واقع او ساتلې وي، ځینې وایي چې: د «شتر مرغ» هګۍ ترې مراده ده، چې ډېره ښایسته وي، په هر حال دغه تشبیه

په صفايي او ښکليتوب کې ده، نه په سپينوالي کې لکه چې د «الرحمان» سورت (په ۲۷ جزء (۳) رکوع، (۵۸) آيت) کې داسې يو آيت مونږ لولو: ﴿كَأَنَّهُنَّ ٱلْيَاقُوتُ وَٱلْمَرْجَانُ﴾.

فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٥٠﴾ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٌ ﴿٥١﴾ يَقُولُ أَئِنَّكَ لَمِنَ
ٱلْمُصَدِّقِينَ ﴿٥٢﴾ أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَدِينُونَ ﴿٥٣﴾

پس مخ به وګرځوي ځينې د دې جنتيانو پر ځينو نورو جنتيانو چې پوښتنه به سره کوي يو له بله (له احواله د دنيا). نو وبه وايي يو ويونکی له دوی نه چې ښکه زه چې وم وو ما لره يو ملګری (منکر له بعثه). چې ويل يې (ماته) آيا ښکه ته چې يې له باور کوونکيو يې (په بعث بعد الموت). آيا هر کله چې مړه شو مونږ، او شو مونږ خاورې او هډوکي آيا ښکه مونږ ته به خامخا جزاء راکړه شي؟.

تفسير: يعنې د مجلس ملګري به سره ټولېږي، او د طهورو شرابو جامونه به ځښي، او د دغه عيش او تنعم په وخت کې به ځينې د خپلو تېرو حالاتو او واقعاتو تذکرې سره کوي، يو جنتي به ويي چې خانه ! په دنيا کې به يو سړی د دې لامله پر ما خندښده چې زه ولې پر آخرت قايل او پر وجود يې باور لرم، او ماته به يې د نادان او د احمق نسبت کاوه، او ويل به يې چې: دغه بيخي مهمله او چټې خبره ده، وروسته له دې نه چې سړی مړ او له خاورې او له نورو سره ګډ شي، او غوښه او پوستکی هيڅ شی يې پاتې نشي، او تش وراسته هډوکي يې پاتې شي؛ نو بيا دی د خپلو اعمالو د بدل موندلو لپاره ژوندی راپاڅاوه شي؟.

قَالَ هَلْ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ﴿٥٤﴾

بيا وايي: آيا يئ تاسې کتونکي (په دوزخ کې چې د هغه منکر حال درښکاره شي).

تفسير: يعنې هغه پر آخرت مسخره کوونکی سړی يقيناً په دوزخ کې لوښدلی دی، راځئ چې له لرې څخه خو لږ څه د هغه بد احوال ځان ته په عين اليقين سره هم معلوم کړو، دغه به د هم هغه جنّتي مقوله وي، او ځينې وايي چې دغه مقوله د الله تعالی ده، يعنې الله تعالی به وفرمايي چې: آيا تاسو غواړئ چې د هغه منکر بد احوال وګورئ؟.

فَاطَّلَعَ فَرَآهُ فِي سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥٥﴾ قَالَ تَٱللَّهِ إِن كِدتَّ لَتُرْدِينِ ﴿٥٦﴾ وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ
ٱلْمُحْضَرِينَ ﴿٥٧﴾

پس وبه ګوري (دغه قائل) پس وبه ويني هغه (منکر ملګری) به منځ د دوزخ کې. وبه وايي (قائل منکر ته د ملامتيا لپاره) قسم دی په الله چې نژدې وې ته چې په کنده د دوزخ کې مې وغورځوې. او که نه وی انعام د رب ځما؛ خامخا وم به زه له حاضر کړيو شويو (دوزخ ته سره له تا).

تفسير: يعنې دغه جنتي ته د ده د ملګري حال ورښود کېږي چې بيخي د دوزخ منځ کې به پروت وي، د ده له ليدلو څخه به دی عبرت اخلي، او د الله تعالی فضل او احسان به يې په ياد ورشي، او هغه ته به داسې وايي: «ای کمبخته ! تا غوښته چې ما هم له خپل ځانه سره يار او ملګری کړې»، محض د الله تعالی فضل او احسان ځما لاس ونيو، او له دغه مصيبت څخه يې بچ کړم، چې ځما قدم د اسلام د سمې لارې څخه ونه ښوييده، که نه نن به زما حال هم ستا په شان وو، تا غوندې به زه هم نيول کېدم، او په دغه دوزخ کې به غورځول کېدم، او دغه سخت دردناک عذاب به مې موندو.

أَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِينَ ﴿٥٨﴾ إِلَّا مَوْتَتَنَا الْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٥٩﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٦٠﴾ لِمِثْلِ هَٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُونَ ﴿٦١﴾

آیا پس نه یو مونږ (جنتیان) مړه کېدونکي (بلکه نه یو). مګر همغه مرګ ځمونږ ړومبنی په (دنیا کې) او نه یو مونږ په عذاب کړی شوي. بېشکه چې دغه (ابدي خوندور حیات) خامخا همدغه په مراد رسېدل بری ډېر لوی دی. خاص لپاره د مثل د دې (نعمتونو) پس ښایي چې عمل وکړي عمل کوونکي (نه لپاره د جاه او مال د دنیا چې فاني دي).

تفسیر: په دغه وخت کې به له ډېره مسرّته ووایي: آیا دغه واقعي خبره نه ده، بلکه ده چې ماسوا له هغه پخواني مرګه چې په دنیا کې مونږ ته رسېدلی دی؛ وروسته له دې نه مونږ له سره نه مرو، او نه له سره له دغه عیش او عشرت او راحت څخه وځو، بېشکه چې لوی بری او کامیابي همدې ته وایي، او دغه دی اعلی مقصد چې ښایي د هغه د تحصیل لپاره هر قسم زحمتونه او تکالیف پر ځان واخیستل شي !، او هر ډول ایثار او فداکاري په دغه لاره کې وکړی شي !.

أَذَٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ ﴿٦٢﴾ إِنَّا جَعَلْنَاهَا فِتْنَةً لِّلظَّالِمِينَ ﴿٦٣﴾ إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِي أَصْلِ الْجَحِيمِ ﴿٦٤﴾

آیا دغه (نعماء د جنت) غوره دي له جهته د مېلمستیا (جنتیانو ته) یا ونه د زقوم (غوره ده دوزخیانو ته). بېشکه مونږ ګرځولې مو ده دغه ونه فتنه عذاب لپاره د ظالمانو. بېشکه چې دا ونه چې راووځي په بیخ د دوزخ کې.

تفسیر: «زقّوم» د کومې وڼې نوم دی چې ډېره ترخه او خورا بد خونده ده، لکه چې په هندوستان کې د (تهر) یا (سېهند) ونه همدغسې ده، د دوزخ په منځ کې الله تعالی پخپل قدرت سره دغه ونه زرغونه کړې ده، همغه یې دلته په ﴿أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ﴾ سره موسومه کړې ده، هغه یوه بلا ده ظالمانو لره په آخرت کې، ځکه څه وخت چې دوزخیان له لوږې څخه ډېر په عذاب او بېقراره شي؛ نو همدغه خوراک به دوی ته ورکاوه کېږي، او د دوی له ستوني (حلق) ځینې د هغه له تېرولو یا تېرېدو څخه وروسته له دې څخه مخصوص بد اثر پیدا کېږي، چې له هغه ځنې یو ځان ته مستقل عذاب پر دوزخیانو نازل او مسلط کېږي، او په دنیا کې هم د وڼې تذکره یو شان ته ابتلاء او ازموینه ده، چې منکران د هغې له ذکره په قرآن کې په ضلالت او ګمراهۍ کې لویږي، ځینې وایي چې: شنه ونه به د دوزخ په اور کې څرنګه زرغونېږي؟ حال دا ممکن دي چې د دې وڼې مزاج ناري وي، لکه د «سمندر» مزاج چې د اور په چنجي سره مشهور دی، او د هندوستان د سهارنپور د بلدي په عمومي باغ کې ځینې داسې وڼې هم شته، چې د هغو تربیت په اور سره کېږي.

طَلْعُهَا كَأَنَّهُ رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ ﴿٦٥﴾

وږي د هغې ګواکې سرونه د شیطانانو (په عمومي قباحت او کراهیت خپل سره).

تفسیر: یعنې د سخت بدرنګه شیطان په صورت یا یې مارانو (منګورو) ته شیاطین ویلي دي، یعنې د هغې وږي یا واښکي به یې د منګرو د سرونو په شان وي، لکه چې په هندوستان کې په تشبیه سره یوې وڼې ته «ناګیهن» وایي، یعنې د منګري پرانستلې خوله.

فَإِنَّهُمْ لَآكِلُونَ مِنْهَا فَمَالِئُونَ مِنْهَا الْبُطُونَ ﴿٦٦﴾ ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِنْ حَمِيمٍ ﴿٦٧﴾

پس بېشکه دوی خامخا خوړونکي وي له هغه (زقوم) څخه، پس ډکوونکي به وي له هغه (زقوم) د نسو خپلو (له جهته د ډېرې لوږې نه). بيا بېشکه دوی ته پر هغه (ونه د زقوم) خامخا ګډول (څښول) به وي له اوبو يشوليو شويو څخه (چې کلمې به يې توتې توتې کوي).

تفسير: کله چې دوزخيان «زقوم» وخوري؛ تږي کيږي، دلته سختې تودې يشېدلې اوبه پر دوی څښولی کيږي، چې د هغو په اثر د دوی کلمې توتې توتې لاندې تږې لويږي: ﴿وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ﴾ (۲۶ جزء د محمد سورت (۲) رکوع (۱۵) آيت) أعاذنا الله منها.

ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى الْجَحِيمِ ﴿٦٨﴾

بيا بېشکه ورتله د دوی به هرومرو اور ته وي.

تفسير: او کله چې دوی ډېر وږي کيږي؛ نو له اوره يو څنګ ته بيول کيږي، او دغه خوراک او اوبه پر دوی خوړلی او څښلی کيږي، نو بيا بېرته په همدغه اور کې غورځول کيږي، او دوی د دغه عذاب څخه مستحق دي چې:

إِنَّهُمْ أَلْفَوْا آبَاءَهُمْ ضَالِّينَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ عَلَىٰ آثَارِهِمْ يُهْرَعُونَ ﴿٧٠﴾

بېشکه چې دوی موندلي دي پلرونه خپل ګمراهان. پس دوی په قدمونو د هغوی پسې ځغلي منډې وهي (د هغوی تقليد کوي، دليل او برهان ته نه ګوري).

تفسير: دغه وروستني کفار د پخوانيو کفارو په ړوند تقليد ګمراه شول، په کومه لاره چې پخواني کفّار تللي وو، هم پر همغو لارو په منډو شول، او هغه کندو ژورو ته يې له سره فکر او دقت ونه کړ، او د حجّت متابعت يې پرېښود.

وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ أَكْثَرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٧١﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا فِيهِمْ مُنْذِرِينَ ﴿٧٢﴾ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِينَ ﴿٧٣﴾ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿٧٤﴾

او خامخا په تحقيق ګمراه شوي وو پخوا له دوی نه اکثر د ړومبنيو (اممو څخه په تقليد او ترک د دليل). او خامخا په تحقيق ليږلي مو وو په دوی کې ويرونکي (انبياء له عذابه؛ نو دوی هغه نه منل؛ نو هلاک مو کړل). پس وګوره چې څرنګه وو عاقبت آخره خاتمه د ويرولیو شويو (له جهته د عذابه چې ټول هلاک شول). مګر هغه بندګان د الله چې پاک کړی شوي وي (له عصيانه؛ خلاص دي له عذابه).

تفسير: يعنې په هره زمانه کې له انجامه خبرونکي او له آخرته ويرونکي انبياء راغلي دي، د هغو کسانو عاقبت او آخره خاتمه څرنګه شوه؟ چې د هغوی خبرو ته يې غوږ کښېښود؟ يواځې د الله تعالى همغه مخصوص او منتخب بندګان له عذابه محفوظ او مصئون پاتې شول، چې له الله تعالى څخه وېرېدل، او د آخرت فکر له هغوی سره وو، وروسته له دې نه د ځينو منذرينو (ويرونکيو) او د ځينو منذَرينو (ويرولیو شويو) قصې اورلی کيږي، څو مکذبين ترې عبرت واخلي، او مؤمنين پرې ډاډه او متسلي شي.

وَلَقَدْ نَادَىٰنَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيبُونَ ﴿٧٥﴾ وَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ
الْبَاقِينَ ﴿٧٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ﴿٧٨﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ ﴿٧٩﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٨٠﴾
إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿٨١﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ ﴿٨٢﴾

او خامخا په تحقيق غږ کړی وو مونږ ته نوح؛ پس خامخا ښه دعا او سوال قبلوونکي وو. او نجات ورکړ مونږ دغه (نوح) ته او اهل د دغه (نوح) ته له غمه ډېر لوی (چې ایذاء قوم او غرق وو). او وګرځوله مونږ اولاده د دغه (نوح) هم دوی باقي پاتې کیدونکي. او پرې مو ښودل پر دغه (نوح مدح او ثناء) په وروستنیو خلقو کې. سلام دی (له الله) پر نوح په عالمیانو کې. بېشکه مونږ همداسې (لکه نېکه جزاء د نوح، نېکه) جزاء ورکوو محسنانو نیکوکارانو ته. بېشکه چې دغه (نوح) وو له (خاصو) بندګانو مؤمنانو ځمونږ نه. بیا غرق کړل مونږ هغه نور (کفار په سؤال د نوح).

تفسیر: تقریبًا تر یو زر کاله پورې نوح علیه السلام خپل قوم ته پند او نصیحت کاوه، او دوی یې د دوی په خیر او شر پوهول، مګر د دوی شرارت او ایذاء رسول پرله پسې تزییدل او ترقي موندله، بالآخر نوح علیه السلام له ډېر مجبوریت د خپل لیږونکي دربار ته متوجه شو، او عرض یې وکړ: ﴿فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ﴾ (۲۷ جزء، د القمر سورت (۱) رکوع (۱۰) آیت) «ای ربه ! بېشکه چې زه پرې مغلوب یم، ته له ما سره مدد او مرسته وکړه»، نو وګورئ چې الله تعالی د ده دعاء څرنګه مستجابه او په څه شان یې ورسره مدد وکړ؟ نوح علیه السلام ته یې سره د ده له کورنۍ او اتباع د کفارو د هغه مسلسل او متوالي ضرر رسولو څخه نجات ورکړ، او د هولناک طوفان په وخت کې یې د ده حفاظت وکړ، او یوائې بیا د نوح علیه السلام له اولادې او د ذریاتو څخه یې دنیا ودانه کړه، او تر څو چې دنیا ودانه وي؛ د ده د خیر ذکر یې پر ژبو جاري او باقي پرښود، لکه چې تر نن پورې خلق پرې سلامونه لیږي، او په ټوله دنیا کې د نوح علیه السلام پر نامه یادیږي.

وَإِنَّ مِنْ شِيعَتِهِ لَإِبْرَاهِيمَ ﴿٨٣﴾

او بېشکه یو له تابعانو د دغه (نوح) خامخا ابراهیم دی.

تفسیر: انبیاء علیهم السلام د دین په اصولو کې ټول سره یو او پر یوه سمه صافه لاره روان دي، او هر یو وروستنی نبي د پخوانیو انبیاوو تأیید او تصدیق کوي، نو ځکه ابراهیم علیه السلام یې د نوح علیه السلام له ډلې څخه وفرمایه: ﴿وَإِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ﴾ (۱۸ جزء، د المؤمنون سورت (۴) رکوع (۵۲) آیت).

إِذْ جَاءَ رَبَّهُ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٤﴾

کله چې راغی (ابراهیم) رب خپل ته سره له زړه ښه سالم پاک بې له شکه.

تفسیر: یعنې له هر قسمه اعتقادي او اخلاقي رنځورۍ او مرض څخه یې خپل زړه پاک کړ !، او د دنیوي اندېښنو او خرخشو څخه یې ځان خلاص کړ، سره له تواضع او انکسار د خپل رب په طرف راغب او متمایل شو، او خپل قوم ته یې هم پند او نصیحت وکړ چې له کفر، شرک او بت پرستۍ او عصیان څخه خپل ځانونه وساتئ.

إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَاذَا تَعْبُدُونَ ﴿٨٥﴾ أَئِفْكًا آلِهَةً دُونَ اللَّهِ تُرِيدُونَ ﴿٨٦﴾

کله چې وویل (ابراهیم) پلار خپل او قوم خپل ته: څه شی دی چې عبادت یې کوئ تاسې. آیا په دروغو سره معبودان نور غیر له الله غواړئ تاسې (او عبادت یې کوئ).

تفسیر: یعنې دغه د تیرې بتان څه شی دي او څه حیثیت لري چې تاسو یې په دې اندازه عزت او احترام کوئ؟ او له الله تعالی څخه مو مخ اړولی او له بُتانو سره مو خپل عابدانه مناسبات ټرلي دي، آیا په واقع سره د دوی په لاس کې د ټول جهان واک، اختیار او حکومت دی؟ او د کوم وړوکي یا لوی نقصان او نفعې مالکان دي؟ آیا تاسې ولې له خپل حقیقي الله او مالک أجل وأعلی شأنه و أعظم برهانه څخه مخ ګرځوئ؟ او د دغو باطلو او د دروغو حاکمانو او بُتانو خوشامد او حمایت کوئ؟.

فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٨٧﴾

پس څه ګمان مو دی پر رب د عالمیانو (چې بې له عذابه به مو پریږدي، بلکه نه مو پریږدي).

تفسیر: یعنې آیا د ده په وجود کې څه شک او شبهه شته؟ آیا تاسې د هغه له شان او رُتبې څخه بېخبره او ناپوهان یئ چې (معاذ الله) تیرې له هغه سره شریکان دروئ، یا د ده له غضب او انتقام څخه ناواقفه یئ، چې پر داسې ګستاخۍ او بې ادبۍ زړور شوي یئ؟ بالآخر دا راوښیئ چې تاسې د رب العالمین په نسبت څرنګه افکار او خیالات لرئ؟.

فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ ﴿٨٨﴾ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ﴿٨٩﴾ فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ ﴿٩٠﴾ فَرَاغَ إِلَىٰ آلِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٩١﴾

پس نظر یې واچوه یو نظر په ستوریو کې. پس وویل (ابراهیم) چې بېشکه زه ناجوړ یم. پس وګرځېدل هغوی له ابراهیم څخه حال دا چې شا کوونکي وو. پس پټ راغی (دغه ابراهیم) معبودانو د دوی ته، پس وویل (ابراهیم دغو بُتانو ته) چې: آیا نه خورئ (تاسې له دغو درته اینبودلیو شویو طعامونو څخه؟).

تفسیر: د ابراهیم علیه السلام په زمانه کې د نجوم علم ډېر مترقّي وو، ده خپل قوم ته د ورښوولو لپاره ستوریو ته وکتل، او ویې ویل چې: ځما طبیعت ښه نه دی، یا یې مطلب دا وو چې: زه ناجوړه کېدونکی یم، ځکه چې ناروغي د مزاج د بې اعتدالۍ سره مرادفه ده، او له موت څخه پخوا هر سړي ته همدغه صورت وړاندې کېدونکی دی، په هر حال د ابراهیم علیه السلام مراد صحیح وو، لیکن ستوریو ته یې د کتلو په وخت د ده له داسې وینا ﴿إِنِّي سَقِيمٌ﴾ څخه خلق داسې وپوهېدل، چې دی د نجوم په وسیله وپوهېد، چې ده نژدې ده چې رنځورېږم، دغه خلک دیو لوی جشن په طرف د ښاره د باندی روان وو نو د ابراهیم علیه السلام د وینا په اوریدو سره دده په نه ورتګ د معذوریت په علت وپوهیدل.

تنبیه: د پاس تقریر څخه ظاهر شو چې د ابراهیم علیه السلام ﴿إِنِّي سَقِيمٌ﴾ ویل په واقع کې دروغ نه وو، هو ! له هغه څخه اوږدونکي په کوم مطلب چې پوهیدلي دي، د هغه په اعتبار خلاف الواقع وو، ځکه په بعض الأحادیث الصحیحه کې پر دغه د کذب د لفظ اطلاق کړی شوی دی، حال دا چې دغه: «کذب» نه بلکه في الحقیقت «توریه» ده، او داسې توریې د شرعي مصلحت په وخت کې مباح دي، لکه چې د هجرت په حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د «ممن الرجل» چې دا سړی د کوم ځای دي، په ځواب کې «من ماء» چې دا اوبو نه دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مقصد دا وو چې زه د نطفی د اوبو نه یم خو په ظاهر کې هغه سړي پرې پوه نه شو چا چې دده نه دده ځای په

تعلق پوښتنه کړي وه. وفرمایل، او ابو بکر الصدیق رضي الله عنه د یوه سوال په ځواب کې ویلي وو: «رجلٌ یهدیني السبیل» هو ! څرنګه چې دغه «توریه» هم د ابراهیم علیه السلام د لورې (اوچت) مقام په لحاظ خلاف الأولی وه، نو ځکه د «حسنات الأبرار سیئات المقربین» په أساس په حدیث کې «ذنب» ورته ویلی شوی، والله أعلم.

مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُونَ ﴿٩٢﴾

څه شوي دي پر تاسې چې خبرې نه کوئ (او جواب نه راکوئ تاسې مالره؟).

تفسیر: کله چې د بتانو له طرفه د خوړلو او نه خوړلو په نسبت ابراهیم علیه السلام کوم جواب وانه ورېد؛ نو ویې ویل چې: تاسې خبرې ولې نه کوئ؟ حال دا چې ستاسې اعضاء او صورت د انسانانو په شان جوړ کړی شوی دی، لیکن ویې نشو کړی چې د انسانانو روح هم په تاسې کې وغورځوي، نو بیا د تعجّب ځای دی چې خوړونکي، څښونکي، ویونکي انسانان د دغو بې حسه او بې حرکته د انسان په شان ښکاریدونکیو بُتانو په مخ کې ولې سر په سجده لویږي؟ او خپل حاجات او مهمات ترې غواړي؟

فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِينِ ﴿٩٣﴾

پس پټ ننوت پر دوی په وهلو سره په قوت (یا ښي لاس سره).

تفسیر: یعنې په زور سره یې ودرزول، او ګرد یې سره مات او ګوډ کړل، د انبیاء په سورت کې دغه قصه مفصّله تېره شوې ده، چې ابراهیم علیه السلام داسې قسم یاد کړی وو: ﴿وَتَاللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُمْ﴾.

فَأَقْبَلُوا إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ﴿٩٤﴾

پس مخامخ شول (متوجه شول نمرودیان) دغه (ابراهیم) ته چې رامنډې یې وهلې.

تفسیر: کله چې خلق له خپلې مېلې او چرچې څخه بېرته راوګرځېدل، څه ګوري چې د دوی بُتان ګوډ او مات توتې توتې پراته دي، نو له قرائنو او اماراتو څخه وپوهېدل چې دغه کار پرته له ابراهیم څخه بل چا نه دی کړی، لکه چې ګرد د ده په چارچاپېر کې سره راټول شول، او ورته یې وویل چې: دغه ځمونږ معبودان دې ولې مات کړي دي؟.

قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ ﴿٩٥﴾ وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾

وویل (ابراهیم دوی ته جوابًا) آیا عبادت کوئ تاسې د هغه چې تاسو یې تراشوئ (او پخپلو لاسو یې جوړوئ). حال دا چې الله پیدا کړي یئ تاسې او هغه (عمل) چې کوئ یې تاسې (نو ولې د غیر الله عبادت کوئ؟).

تفسیر: یعنې هر چا چې دغه بُتان مات کړي دي، تاسو هغه پسې ولې ګرځئ؟ تاسې پخپله ولې داسې احمقانه حرکات کوئ؟ آیا د تیرو بېځانه بت چې تاسې یې پخپلو لاسو جوړوئ د عبادت لایق کېدی شي؟ کله چې الله تعالی د ټولو موجوداتو خالق او رب دی؛ نو تاسې ولې د نورو اشیاوو په عبادت کې مشغول او لګیا کېږئ؟.

قَالُوا ابْنُوا لَهُ بُنْيَانًا فَأَلْقُوهُ فِي الْجَحِيمِ ﴿٩٧﴾ فَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَسْفَلِينَ ﴿٩٨﴾

وویل (کفارو) چې جوړه کړئ دغه (ابراهیم) ته یوه بناء (او له خسو یې ډکه کړئ او اور وروا‌چوئ) پس وغورځوئ دغه (ابراهیم) د اور په ډېري کې. پس اراده وکړه دوی له ابراهیم سره د فریب (لپاره د سوځولو) پس ومو ګرځول دوی لاندې (خوار سپک).

تفسیر: کله چې د ابراهیم علیه السلام د دغو معقولو خبرو ځواب دوی ورنشو کړی؛ نو داسې تجویز یې سره غوټه کړه، چې راځئ یوه لویه آتشخانه جوړه کړو، او ابراهیم د هغې په اور کې وغورځوو، څو په دغه تدبیر د خلقو په زړونو کې د بُتانو عقیده بهر ته ټینګه شي، او په عین زمان کې د دوی یو خوف او هیبت هم په زړونو کې پیدا شي، او ګرد سره وپوهیږي چې د مخالفت انجام څرنګه کیږي؟ څو وروسته له دې نه بل څوک له سره داسې یو حرکت ته جرأت او اقدام ونه کړي، مګر الله تعالی بیا هم دوی سپک او ذلیل وګرځول، او هغه ډېر زورور اور یې پر خپل خلیل ګلزار کړ، چې له هغه ځخه علی رؤوس الأشهاد دغه خبره ثابته شوه چې تاسې او ستاسې معبودان که ټول سره خپل لاسونه یو کړئ؛ خو بیا هم د الله تعالی د یوه مخلص بنده یوه ویښته ته هم څه ضرر او زیان نشي رسولی، او له سره د دې خبرې مجال نه لري چې د ابراهیم علیه السلام د رب او د الله تعالی له اجازې څخه ماسوا یو ویښته یې هم وسوځوئ.

وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٩٩﴾

او وویل (ابراهیم) بېشکه زه تلونکی یم رب خپل ته، ژر به لاره راوښیي ماته (رب ځما).

تفسیر: کله چې ابراهیم علیه السلام له خپل قوم ځخه مأیوس او ناامیده شو، او پلار یې هم پرې سختي او شدّت شروع کړ، نو د هجرت اراده یې وفرمایله، او الله تعالی د شام لار ورته وروښوده.

رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿١٠٠﴾

ای ربه ځما ! راوبښه ما ته (ځوی) له صالحانو.

تفسیر: یعنې کله چې ټبر او قوم او کور کهول مې پرېښود؛ نو ښه اولاد راته عطا کړه، چې په دیني چارو کې ځما مدد وکړي، او د دوی سلسلې ته دوام ورکړه.

فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ ﴿١٠١﴾

پس زېرې وکړ مونږ په دغه (ابراهیم) په داسې هلک چې ډېر تحمل والا به وي.

تفسیر: یعنې له دې نه معلوم شو، چې ابراهیم علیه السلام د اولاد په نسبت چې دعاء کړې وه، او د الله تعالی په دربار کې قبوله شوه؛ نو همدغه هلک یې د الله تعالی په دربار کې د قربانۍ په شان وروړاندې کړ، له موجوده تورات ځخه هم ثابت دي: کوم هلک چې ابراهیم علیه السلام ته د ده د دعا په اثر ورعطا شوی وو، هغه هم دغه اسماعیل علیه السلام دی، او ځکه یې نوم اسماعیل علیه السلام کېښود چې معنی یې «واورېد الله» ده، لکه چې «اسماعیل» له دوو لفظونو ځخه جوړ دی چې: «سمع ـ اورېدل» او «ایل ـ الله» دی، یعنې الله تعالی د ابراهیم علیه السلام دعا واورېده، او مستجابه یې وګرځوله، او دغه هلک یې ورعطا کړ.

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَىٰ فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَىٰ ۚ قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۖ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ ﴿١٠٢﴾

پس کله چې ورسېد اسماعیل سره له پلار خپل حد د سعي ته؛ وویل (ابراهیم) ای ځویګیه ځما ! بېشکه زه پرله پسې وینم په خوب کې داسې چې بېشکه زه ذبحه کوم تا، پس ته هم نظر وکړه چې څرنګه مصلحت ګڼې؟ وویل (اسماعیل): ای پلاره ځما ! وکړه ته همغه چې حکم یې درباندې شوی دی، ژر ده چې وبه مومې ته ما که اراده فرمایلي وي الله له صبر کوونکیو (په حکم د الله).

تفسیر: څه وخت چې اسماعیل علیه السلام لوی ځلمکی او د دغه کار وړ او قابل شو چې د خپل پلار په مخ کې منډې ووهي، او ورسره وځغلي، او د ده په کارونو کې ورسره سعي، کوښښ وکړي؛ نو په دغه وخت کې ابراهیم علیه السلام خپل خوب دغه خپل په زړه پورې یو ځوی ته ووایه، څو د ده افکار او خیالات ځان ته معلوم کړي، چې په خوښۍ سره دغه کار ته تیاریږي؟ که جبر او اکراه ته هم وار رسیږي؟ وایي چې: ابراهیم علیه السلام پرله پسې درې شپې همدغسې خوب لیده، په درېمه ورځ کې یې خپل ځوی ته هم د هغه اطلاع ورکړه، چې ځوی یې هم بلا توقفه هغه ومنله، او ویې ویل: «بابا جانه ! نو ولې ډیل او ځنډ کوئ؟ هر هغه حکم چې لوی مالک له جانبه تاسې ته شوی دی، ژر تر ژره یې اجراء او نافذ کړئ !، په دغسې کارونو کې هیڅ صلاح او مشورې ته ضرورت نشته، د الله تعالی د حکم په امتثال کې نه ښایي چې د پلارتوب شفقت مانع شي، ځما له جانبه بیخي مطمئن او ډاډه اوسئ !، ان شاء الله تاسې به وګورئ چې زه په څه صبر او تحمّل سره د الله تعالی د دغه حکم تعمیل کوم»، په زړګونو رحمتونه دې وي پر دغسې پلار او ځوی باندې.

فَلَمَّآ أَسۡلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلۡجَبِينِ ١٠٣

پس کله چې غاړه کښوده (دواړو حکم د الله ته) او وایې چاوه دغه (اسماعیل) پر ښي اړخ د ده.

تفسیر: «یا وایې چوه پرمخی پر وچولي د ده»، پرمخی یې ځکه واچوه څو د ځوی مخ ورته مخامخ نشي، نه چې د پلارولی مینه او محبت په جوش راشي، او د دغه حکم په تعمیل کې څه ډیل او ځنډ واقع شي، وایي چې دغه خبره ځوی خپل پلار ته ور وښوده، زیات له دې نه الله تعالی نه دي فرمایلي چې څه کیفیت او ماجرا تېره شوه؟.

وَنَٰدَيۡنَٰهُ أَن يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ ١٠٤ قَدۡ صَدَّقۡتَ ٱلرُّءۡيَآۚ

او غږ وکړ مونږ ده ته داسې چې ای ابراهیم !. په تحقیق رښتیا کړ تا خوب (خپل او ومو مانه هغه له تا).

تفسیر: یعنې بس ! بس ! ! پرېږده ! ! ! تا رښتیا کړ خوب خپل !، او قبوله مې کړه دغه قرباني ستا !، ځمونږ مقصود خو ستا د ځوی د حلالولو نه دی !، او تش مو ستا ازموینه او امتحان منظور وو، چې ته په هغه کې پوره بریالی او کامیاب ووتې.

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٠٥ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡبَلَٰٓؤُاْ ٱلۡمُبِينُ ١٠٦

بېشکه مونږ همداسې (لکه نېکه جزاء د ابراهیم ده) جزا ورکوو (نورو) محسنانو نیکوکارانو ته.
بېشکه چې همدا (ذبحه) خامخا همدا ابتلاء ازموینه وه ښکاره.

تفسیر: یعنې داسې سخت او مشکل حکمونه د امتحان او ازموینې لپاره صادروو، او بیا هغه مستقیم او ثابت قدم د هغه په تعمیل کې ګرځوو، بیا ورته لویې درجې ورکوو.

وَفَدَيۡنَٰهُ بِذِبۡحٍ عَظِيمٍ ١٠٧

او فدیه مو ورکړه دغه (اسماعیل) ته په مذبوحې لویې (جنتي پسه سره).

تفسیر: یعنې د لویې درجې چې له جنته راغلې وه، یا ډېره قیمتداره یا سمینه، څربه او تیاره، بیا همدغه د قرباني رسم د اسماعیل علیه السلام د عظیم الشأن یادګار په شان د تل لپاره همېشه قایم او دائم پاتې شو.

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ﴿١٠٨﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ ﴿١٠٩﴾

او باقي پرېښود مونږ پر ده په وروستنيو خلقو دا چې. سلام دی پر ابراهيم. (يا باقي پرېښود مونږ پر ابراهيم ښه ثناء او مدح په وروستنيو خلقو تر قيامت پورې).

تفسير: سلام دی ځمونږ پر ابراهيم باندې، يعنې مونږ تر نن پورې ابراهيم عليه السلام په عزّت او عظمت او حرمت سره يادوو، على نبينا و عليه ألف سلام وتحية.

كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١١٠﴾ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١١﴾

همداسې (په مثل د نېکه جزاء د ابراهيم، نېکه) جزاء ورکوو (نورو) محسنانو نيکو کارانو ته. بېشکه چې دی له هغو (خالصو) بندګانو ځمونږ دی چې (خاص) مؤمنان دي.

تفسير: يعنې ابراهيم عليه السلام ځمونږ له اعلى درجه ايماندارو بندګانو ځخه دی.

وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ نَبِيًّا مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿١١٢﴾

او زېرى ورکړ مونږ دغه (ابراهيم) ته (پس له اسماعيل) په اسحاق سره چې نبي وو له صالحانو.

تفسير: معلوم شو چې هغه ږومبنى زېرى د اسماعيل عليه السلام وو، او د ذبحې د قصې ګرده واقعه پر هغه مبني وه.

وَبَارَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلَىٰ إِسْحَاقَ ۚ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَظَالِمٌ لِنَفْسِهِ مُبِينٌ ﴿١١٣﴾

او برکت اچولى وو مونږ پر دغه (اسماعيل) او پر اسحاق (په تکثير د اولاد)، او له اولادې د دې دواړو ځخه ځوک نيکوکار دي (په ايمان او طاعت سره)، او ځوک ظالم دي په ځان خپل ښکاره (په کفر او معصيت سره).

تفسير: يعنې د دوى اولاد (ځوځات) ټول سره يو شان نه دي، په دوى کې داسې نېکان او پاکان هم شته چې د خپلو آباوو او اجدادو نومونه روښانه او ژوندي کوي، او ږپر بدان او خراب سړي هم په کې شته چې د خپلو بدو عملونو او بدو چارو لامله هغوى ته د دغې معظمې کورنۍ ننګ ويلى شي، او د بدو سزاوو ورږ او مستحق دي.

تنبيه: عمومًا مفسرينو د ضمير د ﴿وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا﴾ ابراهيم او اسحاق په طرف راجع کړى دى، مګر شاه صاحب (رحمه الله) د اسماعيل او اسحاق عليهما السلام په طرف راجع کړى، او مضمون ته يې زيات وسعت ورکړى دى.

وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَارُونَ ﴿١١٤﴾ وَنَجَّيْنَاهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ ﴿١١٥﴾

او خامخا په تحقيق احسان مو کړى وو پر موسى او هارون. او نجات مو ورکړ دغو دواړو ته او قوم د دوى ته له غمه ږپر لوى نه.

تفسير: يعنې د فرعون او د ده د قوم له ظلم او ستم ځخه يې نجات ورکړ، او د قلزم له بحيرې ځخ يې پورې ايستل په ږپرې اسانۍ سره.

وَنَصَرْنَاهُمْ فَكَانُوا هُمُ الْغَالِبِينَ ﴿١١٦﴾

او نصرت مو ورکړ دغو (سبطیانو) ته پس وو همدوی بریالیان (کامیاب) (پر قبطیانو دښمنانو خپلو).

تفسیر: یعنې فرعون او د فرعونیانو لاولښکر یې ګرد (ټول) سره غرق او ډوب کړل، او بني اسرائیل یې غالب، مظفر او منصور وګرځول، او د هالکینو قبطیانو د املاکو او اموالو وارثان یې همدغه سبطیان او اسرائیلیان کړل.

وَاٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ ﴿۱۱۷﴾

او ورکړی مو دی دغو دواړو (وروڼو) ته کتاب (تورات) ډېر ښه بیانوونکی (شرائعو لره).

تفسیر: یعنې تورات شریف چې په هغه کې د الله تعالی احکام په ډېر تفصیل او ایضاح سره بیان شوي دي.

وَهَدَيْنٰهُمَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿۱۱۸﴾

او ښودلې مو وه دغو دواړو (وروڼو) ته لاره سمه (رسوونکې مقصود ته).

تفسیر: یعنې په ښو افعالو او اقوالو کې مونږ هغوی ته ثبات او استقامت ور په برخه کړل، او پر سمه صافه لاره مو دوی رهي کړل، او هغه اوصاف او صفات مو ورعطاء کړل چې د انبیاوو د عصمت له لوازمو څخه دي.

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ سَلٰمٌ عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۲۰﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۲۱﴾ اِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۲۲﴾

او پرې ښود مونږ په دې دواړو (وروڼو) په وروستنیو خلقو کې دا. چې سلام دی (د الله له طرفه) پر موسی او هارون. بېشکه مونږ همداسې (په مثل د نېکې جزاء د موسی او هارون؛ نېکه) جزاء ورکوو (نورو) محسنانو نیکوکارانو ته. بېشکه دوی دواړه له هغو (خالصو) بندګانو ځمونږ دی چې (خاص) مؤمنان دي.

تفسیر: یعنې ځمونږ د کاملو ایماندارانو بندګانو څخه دی.

وَاِنَّ اِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۲۳﴾ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ اَتَدْعُوْنَ بَعْلًا وَّتَذَرُوْنَ اَحْسَنَ الْخٰلِقِيْنَ ﴿۱۲۵﴾

او بېشکه الیاس خامخا له مرسلانو څخه دی. کله چې ویې ویل قوم خپل ته: آیا نه ویرېږئ (له عذابه د الله څخه). آیا تاسې عبادت کوئ د (هغه بُت چې نوم یې) بعل (دی)، او پرېږدئ تاسې (عبادت) د ښه پیدا کوونکي.

تفسیر: د ځینو په نزد الیاس علیه السلام د هارون علیه السلام له نسله دی، الله تعالی الیاس علیه السلام د شام په ملک کې یوه ښار ته چې د «بعلبک» په طرف کې وو؛ ولېږه، د هغه خلق د هغه بُت په عبادت کې مشغول وو چې د «بعل» په نامه سره مشهور وو، الیاس علیه السلام دوی د الله تعالی له قهره او غضبه وویرول، او د بت پرستی له بد انجام او عاقبت څخه یې پوره او خبردار کړل.

اَللّٰهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۲۶﴾

چې الله دی رب ستاسې او رب د هغو پلرونو ستاسې چې ړومبی وو.

تفسیر: یعنې هسې خو په دنیا کې بنې آدمان هم د تحلیل، ترکیب، تعدیل، تحویل او نورو وسایلو په ذریعه ظاهرًا ډېر شیان جوړوي، مګر ډېر ښه خالق، صانع او جوړوونکی همغه پاک الله دی چې د ټولو اصولو، فروعو، جواهرو، اعراضو، صفاتو، موصوفاتو او نورو مخلوقاتو حقیقي خالق دی، هغه لوی ذات چې تاسې او ستاسې پلرونه او نیکونه یې پیدا کړي دي؛ نو بیا به دغه کار چېرې جایز او روا وي چې هغه ﴿اَحۡسَنَ الۡخٰلِقِیۡنَ﴾ پرېږدئ او د «بعل» بُت په عبادت کې بوخت او لګیا شئ، او له هغه څخه امداد او مرسته وغواړئ، چې په ظاهري ډول سره د یوې ذرې د پیدا کولو قوّت او قدرت هم نه لري، بلکه د هغه وجود د ده د منونکیو د کار او زحمت رهین دی، چې د خپلو دغو عابدانو په لاسونو کې څرنګه چې د دوی زړه غوښت؛ جوړ شوي، او پخپل ځای کې درولی شوي دي.

فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿۱۲۷﴾

پس تکذیب وکړ دوی د هغه، پس بېشکه دوی خامخا حاضر کړی شوي دي (دوزخ ته).

تفسیر: یعنې د دروغجن ګڼلو سزا دوی ته هرومرو ورورسېږي.

إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿۱۲۸﴾

مګر تکذیب ونه کړ (د ده هغو) بندګانو د الله چې مخلصان دي.

تفسیر: یعنې نور ګردو هغه ته د دروغو نسبت وکړ، مګر د الله تعالی مخلص او غوره بندګانو د هغه تصدیق وکړ، نو ځکه له سزا څخه یې نجات وموند.

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ﴿۱۲۹﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ إِلْ يَاسِينَ ﴿۱۳۰﴾

او پرې ښود مونږ پر دغه (الیاس مدح او ثناء) په ورستنیو خلقو کې. سلام دی (له الله) پر اِل یاسین.

تفسیر: «الیاس» ته «الیاسین» هم وایي، لکه چې «طور سینا» ته «طور سینین» هم ویلی کیږي، یا به له «الیاسین» څخه د الیاس علیه السلام متبعین مراد وي، او ځینې «آل یاسین» یې هم لولي، نو په دغه تقدیر به «یاسین» د هغوی د پلار نوم وي، یا به د هغوی نوم «یاسین» او «آل» لفظ به مقحم او زائد وي، لکه چې په «کما صلیت علی آل ابراهیم» کې ابراهیم علیه السلام مراد دی، یا چې په «اللهم صل علی آل أبي أوفی» کې مراد اُبی أوفی هم دی.

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿۱۳۱﴾ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۳۲﴾ وَإِنَّ لُوطًا لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿۱۳۳﴾
إِذْ نَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ ﴿۱۳۴﴾ إِلَّا عَجُوزًا فِي الْغَابِرِينَ ﴿۱۳۵﴾

بېشکه مونږ همداسې (په مثل د نېکې جزاء د الیاس؛ نېکه) جزاء ورکوو نېکو بندګانو ته. بېشکه چې دی له هغو بندګانو څخه مونږ دی چې (خاص) مؤمنان دي. او بېشکه چې لوط وو خامخا له مرسلانو څخه. کله چې نجات ورکړ مونږ ده ته او اهل د ده ټولو ته. مګر یوې زړې ښځې ته چې وه دا په باقي پاتې کېدونکیو (د عذاب) کې.

تفسیر: یعنې د ده ښځه چې له معذبینو سره یې تعلق او ارتباط درلود.

ثُمَّ دَمَّرْنَا الْآخَرِينَ ﴿۱۳۶﴾

بیا مونږ ګرد سره هلاک کړل نور (کفّار).

تفسیر: یعنې ماسوا له لوط علیه السلام څخه او د ده له کورنۍ څنې نور د هغو کلیو پر ګردو هستېدونکیو باندې د دوی کلي واړولی شو عِنْدَاللهِ ﷻ، دغه قصه پخوا له دې نه په څو ځایونو کې په تفصیل سره لیکلي شوې ده.

وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِم مُّصْبِحِينَ ﴿١٣٧﴾ وَبِاللَّيْلِ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٣٨﴾

او بېشکه چې تاسې خامخا تیر ېږئ (ای اهل د مکې) پر دوی په دې حال کې چې صبا کوونکي یئ (د ورځې). او د شپې (یعنې هر وخت پرې تېر ېږئ)، آیا پس عقل نه چلوئ (چې عبرت ترې واخلئ).

تفسیر: دغه یې مکیانو ته فرمایلي دي، ځکه چې کوم قوافل چې له معظمې مکې څخه شام ته تلل او راتلل، او د دوی د لارې په منځ کې د لوط علیه السلام د قوم په بل مخ اوښتیو کلیو به یې سترګې لګېدلې، یعنې سره له دې چې دوی تل ترتله پر همغو ورانو قریو تېرېدل، او د عذاب او عبرت علائم او هغه د قدرت لویې نښې یې لیدلې؛ خو بیا هم دوی ته هیڅ پند او عبرت له هغو څخه نه حاصلېده، آیا دوی پر دې نه پوهېږي کوم حال او انجام چې د بل یو نافرمانه قوم شوی وي؛ همغسې احوال پر بل یو نافرمانه قوم هم راتلونکي دي.

وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٣٩﴾ إِذْ أَبَقَ إِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿١٤٠﴾ فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِينَ ﴿١٤١﴾ فَالْتَقَمَهُ الْحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٌ ﴿١٤٢﴾

او بېشکه چې یونس خامخا له مرسلانو څخه دی. کله چې وتښتېد (له خپل قوم څخه) طرف د هغې بېړۍ ډکې ته. پس قرعه یې واچوله (له دغو خلقو د بېړۍ (سره) درې کرته؛) پس شو له مغلوب کړیو شویو (په قرعه کې، بیا ځان یې سیند ته واچوه). پس یوه مړۍ کړ دغه (یونس) لره مهي، حال دا چې دی پخپله د خپل ځان ملامت کوونکی وو (په دغه بلا اذن راتلو کې).

تفسیر: یعنې بېړۍ د سیند په منځ کې په چورلېدلو شروع وکړه، پر بېړۍ سورو خلقو وویل چې: ځمونږ پر دغې بېړۍ کې داسې کوم مریي هم سور دی چې له خپل باداره تښتېدلی دی، نو د ګردو پر نامه څو ځلې پچې واچولی شوې، خو په هر ځلې به پچه (قرعه) د همدغه یونس علیه السلام پر نامه خته، دغه قصه د «یونس» او د «انبیاء» په سورتونو کې په تفصیل سره تېره شوې ده، هلته دې د هغې تحقیق ولوستل شي، د ده الزام هم دغومره وو چې د اجتهادي خطا په اقتضاء بې له دې نه چې د الله تعالی حکم ته یې انتظار کولی، له هغه کلي څخه ووت، او د الله تعالی د عذاب د نزول ورځ یې تعیین فرمایلې وه.

فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِينَ ﴿١٤٣﴾ لَلَبِثَ فِي بَطْنِهِ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤٤﴾

پس که نه وی دغه خبره بېشکه چې دغه (یونس) وو له تسبیح کوونکیو څخه. نو خامخا پاتې به وو په نس د دې مهي کې تر هغې ورځې پورې چې بیا ژوندي راپاڅولی شي (خلق).

تفسیر: یعنې کله چې د مهي په ګېډه کې او پخوا له هغه څخه به یونس علیه السلام د الله تعالی په ذکر او یاد کې ډېر مشغول وو، نو ځکه مونږ هغه ته ډېر ژر نجات ورکړ، که نه تر قیامته به دې د همغه مهي په ګېډه کې پاتې وو، او د باندې وتل به یې په برخه نه کېده، او د همغه مهي غذاء او خوراک به کېده، د کب په ګېډه کې د یونس علیه السلام تسبیح دغه وه: ﴿لَّا إِلَٰهَ إِلَّا أَنتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ﴾.

فَنَبَذْنَٰهُ بِٱلْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيمٌ ﴿١٤٥﴾ وَأَنۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّن يَقْطِينٍ ﴿١٤٦﴾

پس ومو غورځوه دغه (یونس) په ډاګ میدان کې حال دا چې دی رنځور وو. او زرغونه کړه مونږ پرې یوه ونه له کدو نه.

تفسیر: پر مهې حکم وشو چې دی یونس علیه السلام له خپلې ګډې څخه قی کړي، او په یوه خلاص میدان کې یې وغورځوي، غالبًا یونس علیه السلام به د کافي غذاء او هواء او نور ضروریاتو د نه رسېدلو له سببه رنځي او نحیف شوی وو، وایي چې د ده ضعف او نحیفي دې اندازې ته رسېدلې وه، چې د لمر پلوشې او د مچ او نورو کښېناستل هم د ده پر بدن بد لګېده، الله تعالی پخپل قدرت د ده په څنګ کې د کدو یو بوټی سمدلاسه زرغون او لوی کړ، چې د هغه سیوری د ده پر جسم لوېده.

وَأَرْسَلْنَٰهُ إِلَىٰ مِاْئَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ ﴿١٤٧﴾

او بیا مونږ ولېږه دغه (یونس) سلو زرو (خلقو) ته یا زیات له دې نه.

تفسیر: یعنې یواځې که د دوی عاقلان او بالغان شمېرل کېدی؛ نو د هغوی شمېر یو لک تنه وو، او که ټول واړه او لوی سره وشمېرل شي؛ نو د هغوی شمېر زیات وو، یا داسې ووایئ چې: له یو لک تنو څخه زیات وو، او دوو لکو ته نه رسېدل، د زرو کسور ورسره مه لګوئ، نو یو لک یې ووایئ، او که کسر ورسره لګوئ؛ نو د یوه لک څخه به څو زره د پاسه وي، والله أعلم.

فَـَٔامَنُوا۟ فَمَتَّعْنَٰهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١٤٨﴾

پس ایمان راوړ (هغوی پرې) پس نفع مو ورکړه دوی ته تر یوې نېټې پورې.

تفسیر: یعنې د ایمان او یقین په برکت یې د الله تعالی له عذابه نجات وموند، او په خپل مقدّر عمر پورې له دنیوي لذائذو او ژوندون څخه متمتع او مستفید شول.

دغه قصه پخوا له دې نه د «یونس» او د «انبیاء» په سورتونو کې هم لېکلې شوې ده، هلته دې ولوستلی شي.

فَٱسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ ٱلْبَنَٰتُ وَلَهُمُ ٱلْبَنُونَ ﴿١٤٩﴾ أَمْ خَلَقْنَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ إِنَٰثًا وَهُمْ شَٰهِدُونَ ﴿١٥٠﴾ أَلَآ إِنَّهُم مِّنْ إِفْكِهِمْ لَيَقُولُونَ ﴿١٥١﴾ وَلَدَ ٱللَّهُ وَإِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿١٥٢﴾

پس وپوښته ته (ای محمده !) دغه (کفار) آیا رب ستا لره لونې دي؟ او دوی لره ځامن دي؟. او که مو پیدا کړي دي پرښتې ښځې (لونې د الله) حال دا چې دوی حاضر وو (په وخت د پیدا کولو د پرښتو کې). خبردار ! پوه شه !، چې بېشکه دوی له دروغو خپلو خامخا وایي. (داسې) چې ولد راوړی دی الله حال دا چې بېشکه دوی خامخا دروغجنان دي (په دې ویلو خپلو).

تفسیر: یعنې د انبیاوو حال خو مو واورېد چې د نوح، ابراهیم، اسماعیل، موسی، هارون، الیاس، لوط او یونس علیهم السلام د ګردو مشکلات د الله تعالی په امداد او اعانت سره حل شول، خورا ډېر لوی مقرّب انسانان هم د الله تعالی له امداد او معاونت څخه مستغني او بې پروا کېدی نشي، اوس وروسته لږ څه د پرښتو او د پیریانو حال واورئ، چې کفارو د دوی په نسبت څرنګه چتې عقائد له خپله ځانه جوړ کړي دي، لکه چې د عربو ځینو قبائلو به ویل چې: پرښتې د الله تعالی لونې دي، کله چې له دوی نه پوښتنه کېده چې ښه نو د دوی مینډې څوک دي؟ نو د لویو لویو پیریانو لونې به یې ورښوولې په دې شاني چې (العیاذ بالله) د الله تعالی تعلّقات به یې له پیریانو سره ټرل.

الله تعالی فرمایي چې: اوس لږ شانې له دغو جاهلانو څخه پوښتنه وکړئ چې آیا داسې د لوی عظمت او قدرت والا الله تعالی (معاذ الله) د خپل ځان لپاره که د اولاد تجویز هم کوي؛ نو آیا د خپل ځان لپاره لونې غوره کوي؟ او تاسې ته هلکان درکوي !؟ یو خو دغه بې ادبي او ګستاخي شوه چې تاسې الله تعالی ته د اولاد نسبت کوئ، او بیا په اولاد کې هم ورته کمزوي او ښکته او ضعیفه اولاد، او پرښتو ته هم د اناثو (ښځو) نسبت کوئ، آیا کوم وخت چې مونږ پرښتې پیدا کولې؛ دوی ځمونږ په څنګ کې ولاړ وو؟.

اَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى الْبَنِيْنَ ﴿۱۵۳﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۵۵﴾

آیا غوره کړي دي دغه (الله) لونې پر ځامنو. څه وشوه پر تاسې (په دغه حکم د دروغو کې) دغه څرنګه حکم کوئ تاسې. آیا پس پند نه اخلئ تاسې (چې الله پاک دی له ټولو عیوبو).

تفسیر: یعنې لږ ذره خو غور او دقت وکړئ، د عیب ترلو لپاره هم لیاقت او علمیت پکار دی، که مو داسې یوه غلطه عقیده له خپله ځانه جوړوله؛ نو ښایي چې دغسې بې اساسه او بې منطقه به مو نه جوړوله، دغه کوم عدل او انصاف دی چې د خپل ځان لپاره هلکان غوره او پسند کړئ؟ او پاک الله ته د لونې نسبت وکړئ؟.

اَمْ لَكُمْ سُلْطٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵۶﴾ فَاْتُوْا بِكِتٰبِكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۵۷﴾

آیا شته تاسې ته کوم برهان سند ښکاره (چې الله اولاد لري). پس راوړئ تاسې هغه کتاب خپل که چېرې یئ تاسې صادقین رښتین (په خپل قول کې).

تفسیر: یعنې بالآخر دغسې مهمله او بې اساسه خبره مو له کوم ځای څخه راایستلې ده؟ له عقل او فهم او علمي اصولو سره خو د دغې خبرې هیڅ اړه او ارتباط نشته، نو آیا کوم نقلي سند د دغې عقیدې د اثبات لپاره لرئ؟ که داسې وي؛ نو بسم الله ! راوړاندې یې کړئ !.

وَجَعَلُوْا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا ۭ وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ اِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۵۹﴾

او ګرځوي دغه مشرکان په منځ د دغه (الله) او په منځ د پیریانو نسب قرابت (نسبت د خپلوی)، او خامخا په تحقیق پوهیږي پیریان چې بېشکه دوی خامخا حاضر کړی شوي دي (دوزخ ته). پاکې ده الله ته له هغو (خبرو) څخه چې وایي یې دوی (چې شریک او ولد ورته نیسي).

تفسیر: یعنې دغو حمقاوو د پیریانو سره (معاذ الله) د الله تعالی د ځومولي (دامادی) تعلّقات قائم کړي دي، سبحان الله !، دوی څرنګه خبرې کوي؟ که موقع ومومئ؛ نو لږ شانې له دغو پیریانو څخه پوښتنه وکړئ چې د هغوی عقیده او افکار د خپلو ځانونو په نسبت څرنګه دي؟ او خپل ځانونه څرنګه ګڼي؟ دوی ته دغه خبره په ښه شان سره معلومه ده چې دوی هم لکه نورو مجرمینو نیولی کیږي، او د الله تعالی په مخ کې وړاندې کولی شي، ایا له ځوم او داماد سره همداسې معامله کوله شي؟ ځینې اسلافو له نسب څخه مقصد اخیستی دي چې دغو خلقو شیاطین الجن د الله تعالی مقابل حریفان ګڼل، لکه چې مجوسیان د «یزدان» او «اهرېمن» قائلان دي، یعنې یوه ته د نېکۍ خدای او بل ته د بدۍ خدای وایي.

اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۱۶۰﴾

مګر هغه بندګان د الله چې پاک کړی شوي دي (منزّه دي له دغه نسبت او احضار د دوزخ).

تفسیر: یعنې له پیریانو یا انسانانو څنې د الله تعالی غوره او منتخب بندګان له نیولو او په عذابولو څخه آزاد دي، معلوم شو چې هلته د نسبونو او د ارتباطاتو او د تعلقاتو څه پوښتنه نشته، بلکه هلته یوائې د بندګۍ او اخلاص پوښتنه کیږی.

فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ﴿١٦١﴾ مَا أَنتُمْ عَلَيْهِ بِفَاتِنِينَ ﴿١٦٢﴾ إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيمِ ﴿١٦٣﴾

پس بېشکه تاسو چې یئ او هغه چې عبادت یې کوئ تاسې. نه یئ تاسې (ای عابدانو او معبودانو په دغه بُت پرستۍ سره) فتنه اچوونکي (د هیچا). مګر د هغه چې ننوتونکي د دوزخ دي (د الله تعالی په علم کې).

تفسیر: ډېر خلق داسې ګڼي چې د پیریانو په لاس کې د بدۍ او پرښتو په لاس کې د نېکۍ واک او اختیار شته، هر چا ته چې دوی وغواړي ښېګڼه ورسوي، او الله تعالی ته یې مقرب ګرځوي، او هر یوه ته چې دوی وغواړي؛ بدي او تکلیف رسوي، یا یې ګمراه کوي، ښایي د دغو مفروضه وو اختیاراتو په بناء یې دوی د الله تعالی اولاد یا خُسر ګرځولي وي، نو دلته یې د دغې ځواب ورکړی دی، چې نه ستاسې او نه د دوی په لاس کې څه مستقل اختیار شته، تاسې او هغه شیاطین چې تاسو یې عبادت کوئ که ګرد سره یو ځای شئ؛ د دغې خبرې قوت او قدرت نه لرئ چې بې د الله تعالی له مشیته یو متنفس هم په جبر او اکراه سره ګمراه کړی شئ، ګمراه خو همغه څوک کیږي چې الله تعالی دی د ده د بد استعداد په بناء دوزخي لیکلی وي، او د خپلې بدکارۍ په سبب خپل ځان دوزخ ته رسوي، (بیا وویل جبریل علیه السلام محمد صلی الله علیه وسلم ته):

وَمَا مِنَّا إِلَّا لَهُ مَقَامٌ مَّعْلُومٌ ﴿١٦٤﴾

او نشته له مونږ څنې هیڅوک مګر چې مقرر دی ورته یو مقام ځای معلوم.

تفسیر: الله تعالی دغه کلام د پرښتو له ژبې او د دوی له جانبه فرمایلی دی، لکه چې په ډېرو ځایونو کې د انسانانو له جانبه دعاوې فرمایي، یعنې د هرې لویې پرښتې لپاره یو حد مقرر دی، چې دا له هغه حده نشي وړاندې کېدی، دا یې ځکه وفرمایل چې کافران وایي چې: پرښتې د الله تعالی لونې دي، چې د پیریانو له ښځو څخه پیدا شوي دي، حال دا چې پیریانو ته د دوی حال په ښه شان سره معلوم دی، او پرښتې داسې وایي چې: مونږ د دغې خبرې له سره طاقت او توان نه لرو چې د الله تعالی له احکامو د یوې ذرې په اندازه هم تجاوز او تخلّف وکړی شو.

وَإِنَّا لَنَحْنُ الصَّافُّونَ ﴿١٦٥﴾

او بېشکه مونږ خامخا مونږ صف تړونکي یو (په وخت د طاعت کې).

تفسیر: یعنې په خپلو حدودو کې هر څوک د الله تعالی عبادت او د ده د احکامو د منلو لپاره تیار ولاړ دي، او له سره هیڅ یو د دې خبرې طاقت او توان نه لري چې له هغه څخه د ویوه ویښته په اندازه هم وړاندې وروسته وښوییږي.

وَإِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُونَ ﴿١٦٦﴾

او بېشکه مونږ خامخا مونږ تسبیح ویونکي یو.

تفسیر: یعنې تر دې ځای پورې د پرښتو کلام ختم شو، وروسته له دې نه د مکې معظمې د خلقو حال بیان فرمایي.

وَإِنْ كَانُوا لَيَقُولُونَ ﴿١٦٧﴾ لَوْ أَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا مِنَ الْأَوَّلِينَ ﴿١٦٨﴾ لَكُنَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٩﴾ فَكَفَرُوا بِهِ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿١٧٠﴾

او بېشکه چې وو (دغه کُفّار) خامخا ویل به یې داسې. چې که چېرې بېشکه وی له مونږ سره ذکر (کوم کتاب) له پخوانیو (کتابونو) څخه. نو خامخا وو به مونږ بندګان د الله مخلصان. (بیا چې ورته راغی دغه قرآن؛) پس کافران شول په دغه (کتاب)، پس ژر ده چې پوه به شي دوی (په عاقبت د دې کفر خپل).

تفسیر: د عربستان خلقو څه مهال چې د انبیاوو نومونه او قصې اورېدلې، او د دوی له علم څخه بې خبران وو؛ نو پخپلو منځ کې به یې سره داسې ویل: «که مونږ ته د دغو پخوانیو علوم حاصل وی، یا پر مونږ باندې هم کوم اسماني کتاب یا د پند او نصیحت خبرې نازلېدی؛ نو مونږ به پر هغو په ډېر ښه شان سره عمل کوه، او خپل حسن الأعمال به مو نورو ته هم ښوول، او په معرفت او عبادت کې به مو تر دغې اندازې پورې ترقي او پرمختګ کاوه، چې د الله تعالی په مخصوصو او منتخبو بندګانو کې به شاملېدو»، اوس چې د دوی په منځ کې نبي الله صلی الله علیه وسلم مبعوث شوی دی، دوی له خپلو هغو خبرو څخه اوښتي دي، او هغه خپل قول او اقرار یې هېر کړی دی، نو د دغه انحراف څخه کومه نتیجه او انجام چې دوی ته پېښېدونکی دی؛ دوی به یې عنقریب وګوري.

وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ ﴿١٧١﴾ إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُورُونَ ﴿١٧٢﴾ وَإِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغَالِبُونَ ﴿١٧٣﴾

او خامخا په تحقیق پخوا لا صادر شوی دی حکم ځمونږ لپاره د بندګانو ځمونږ مرسلینو. چې بېشکه دوی هم له دوی سره مدد کړی شوی دی. او بېشکه لښکرې ځمونږ خامخا همدوی بریالیانې دي (په کفارو).

تفسیر: یعنې دغه خبره د الله تعالی په علم کې مقرره شوې ده، چې د منکرینو په مقابل کې پاک الله له خپلو انبیاوو سره مدد او معاونت کوي، او بالآخر د الله تعالی لښکر غالب او بریالی کېږي، اګر که ضمنًا حالات په هر ډول او هر وضعیت سره واوړي او لوټونه وخوري؛ مګر فتحه، بری او کامیابي هرومرو د مخلصو بندګانو لپاره ده، او دغه نصرت هم د حُجّت او برهان په اعتبار او هم د ظاهري تسلّط او غلبې په معیار وي، مګر په دغه شرط چې دغه «جند» في الواقع «جند الله» وي.

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿١٧٤﴾ وَأَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴿١٧٥﴾

پس مخ وګرځوه ته (ای محمده !) له دوی نه تر یوه وخته پورې. او ګوره ته دوی ته پس ژر ده چې وبه ویني دوی (عاقبت خپل).

تفسیر: یعنې اوس څو ورځې نور هم دوی ته څه مه وایئ !، او په صبر او استقامت سره د دوی حال ته وګورئ، دوی به هرومرو خپل انجام وګوري، لکه چې ویې هم لید، کله چې وویل منکرانو تمسخرًا چې کله به وي نزول د عذاب؟ نو نازل شو:

أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿١٧٦﴾ فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ ﴿١٧٧﴾

آیا پس (په راتلو) د عذاب ځمونږ تلوار کوي دوی. پس کله چې نازل شي (عذاب) په میدان (غولي) د دوی؛ پس بد به وي سبا د ویرولیو شویو.

تفسیر: ﴿فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ﴾ (ژر دی چې وبه وینی عذاب) شاید د اورېدلو په اثر به دوی داسې ویلي وي چې: اوس نو ژر شه ! ځمونږ عاقبت خاتمه او انجام مونږ ته اوښیه !، نو د هغه ځواب یې داسې ورکړ چې: پر خپل ځان باندې د آفت د ژر غوښتلو دغه شورماشور چې تاسې نښلولی دی، کله چې وخت یې راشي؛ هغه به ډېر بد وخت وي، د الله تعالی عذاب داسې درځي لکه چې کوم دښمن سړي ته څوک په پټوني کې د شپې پټ ناست وي، او ګهیځ د وخته یو ځلي په میدان کې ځان ورښکاره کړي، او پر خپل غلیم په ډانګ پیلې (ښکاره) داړه واچوي، د الله تعالی د عذاب د نزول په وخت کې به د هغو خلقو حشر هم داسې کیږي چې دوی پخوا له دې نه ویرولي شوي دي، او له آخرې خاتمې څخه په ښه ډول پوه او مطلع کړی شوي دي، لکه چې د مکې معظمې په فتح او په نورو ځایونو کې همداسې وشو، اوس بیا الله جلّ شأنه و أعظم برهانُه لپاره د تسلی د خپل رسول الله صلی الله علیه وسلم مکررًا مؤکّدًا داسې امر فرمایي:

وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿١٧٨﴾ وَأَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴿١٧٩﴾

او مخ وګرځوه (ای محمده !) له دوی څخه تر یوې نېټې پورې. او ګوره (دوی ته) پس ژر ده چې وبه ویني دوی (احوال خپل).

تفسیر: ښایي چې ړومبنی وعده د دنیوي عذاب وه، او دغه به د اخروي عذاب وي، یعنې تاسې ورته ګورئ چې وروسته له دې نه دغه کفّار په آخرت کې څه څه عذابونه مومي.

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ﴿١٨١﴾ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٨٢﴾

پاکي ده رب ستا لره (له هره عیبه او نقصانه) چې رب د عزّت (قوت غلبې دی، او پاک دی) له هر هغه څیزه چې (مشرکان یې ورته) نسبت کوي. او سلام دی پر (ټولو) مرسلینو استائیو. او ټوله ثناء صفت خاص الله لره دی چې رب پالونکی د ټولو عالمیانو دی.

تفسیر: د سورت په خاتمه کې یې د ګردو اصولي مضامینو خلاصه بیان کړه، یعنې د الله تعالی ذات له ټولو عیوبو او نقائصو څخه پاک او منزّه دی، په ګردو کمالیه وو صفاتو او محاسنو موصوف دی، او ګردې ښېګڼې د ده په پاک ذات کې مجتمعې دي، پر ګردو انبیاوو او رسولانو د ده له طرفه سلام رائي، چې د دوی د عظمت او عصمت او سالمیت او منصوریت دلیل دی.

تمت سورة الصافات بفضل الله تعالی ومنّه

سُورَةُ صٓ

«د (صٓ) سورت مکي دی، (۸۸) آیته (۵) رکوع لري، په تلاوت کې (۳۸) او په نزول کې هم (۳۸) سورت دی، وروسته د «القمر» له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

صٓ وَالْقُرْاٰنِ ذِي الذِّكْرِ ۝١ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ ۝٢

قسم دی په قرآن چې څښتن (خاوند) د پند، ذکر، بیان، شهرت، عظمت دی. بلکه هغه کسان چې کافران شوي دي په کبر، سرکښۍ کې دي (له قبوله د حق)، او په مخالفت کې دي (له مسلمانۍ سره).

تفسیر: یعنې دغه عظیم الشأن، عالي مرتبت قرآن چې په ډېرو عمده وو نصائحو سره ډک او په نهایت مؤثر طرز خلقو ته د هدایت او معرفت خبرې ښوونکی او پوهوونکی دی؛ په جګ غږ سره شهادت ورکوي: هغه خلق چې له قرآني صداقت او د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له رسالت څخه منکر دي، د هغه سبب داسې نه دی چې د قرآن په تعلیم یا تفهیم کې څه نقص یا قصور شته، یا رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د ده په تبلیغ او تبیین کې (معاذ الله) مقصّر دی، بلکه د دغه انکار او انحراف اصل سبب دا دی چې: دغه مخلوق دروغ پرې ترې، حماقت کوي، او د شقاق او نفاق د جذباتو په جال کې نښتي دي، که چېرې دوی لږ څه له دغه دلدل څخه ووځي؛ نو د حق او صداقت ډېر صاف او پاک سړک د دوی په نظر ورځي.

كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا وَّلَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ ۝٣

(نه ګوري منکران چې) څومره ډېر هلاک کړي دي مونږ پخوا له دې څخه له اهل د زمانې، پس ناړې به یې وهلې (عند نزول العذاب) حال دا چې نه به وو هغه وخت د خلاصېدلو.

تفسیر: یعنې دوی ته دې معلوم وي چې د همدغه غرور او تکبّر په سبب او د انبیاء الله د مقابلې او مجادلې په علّت پخوا له دې نه ډېر اقوام او ملل سره تباه او برباد شوي دي، هغه خلق هم تر ډېرو مودو پورې د الله تعالی له انبیاوو سره جنګیدلي وو، بیا څه وخت چې پر هغوی هغه بد ساعت راغی، او د الله تعالی عذاب دوی له څلورو خواوو څخه چار چاپېر ونیول؛ نو سخت وویرېدل، او شورماشور او غلغله یې ونښلوله، مګر د خلاصي او نجات موقع تېره شوې وه، او وخت او فرصت نه وو پاتې.

«لات» د «لیس» په معنی ده، چې «ت» تأکیداً پرې زائده شوې ده، او له «حین» سره مختص دی، چې ترې اسم یا خبر عموماً محذوفېږي، «مناص» د واوي اجوف مصدر دی.

وَعَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ وَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ۝٤

او تعجب کوي (کفّار) له دې نه چې راغلی دی دوی ته (نبي) ویروونکی له دوی نه، او وایي دا کافران چې: دغه (ویروونکی نبي) ساحر کوډګر دی دروغجن.

تفسیر: یعنې دوی وایي: که له اسمانه کومه پرښته راتلی، خو بیا هم یوه خبره وه، ځمونږ له منځه یو سړی راپورته شوی، او ځمونږ په ویرولو او ژړولو یې شروع کړې ده، او داسې وایي چې: زه د اسمان والا الله له جانبه راغلی یم، دغه یوه ډېره عجیبه خبره ده، اوس ماسوا له دې نه بل څه وویل شي: چې یوه کوډګر یوه د دروغو نندارې جوړه کړې ده. او د کوډو په زور دغه نندارې او کرشمې راښیي، او ورته معجزه وایي، او څو د افسانې خبرې یې هم راتولې کړي دي، او د هغو په نسبت داسې دعوی کوي چې دغه د الله تعالی رالیږلي شوي علوم دي، او زه یې رسول یم.

أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَٰهًا وَاحِدًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ ۝ وَانْطَلَقَ الْمَلَأُ مِنْهُمْ أَنِ امْشُوا وَاصْبِرُوا عَلَىٰ آلِهَتِكُمْ ۖ

آیا ده ګرځولي دي دغه معبودان الله یو؟ بېشکه دغه (ګرځول د ډېرو معبودانو یوه ته، چې تاسې نور معبودان پرېږدئ، او د یوه الله عبادت کوئ؛) خامخا یو څیز ډېر عجیب دی (چې مثل نه لري). او لاړل په تلوار سره مشران له دوی نه (له مجلسه چې سره ویونکي وو یو بل ته) چې ځئ (پاځئ له دې ځایه)، او صبر وکړئ (او محکم اوسئ) پر (عبادت د) معبودانو خپلو.

تفسیر: یعنې دغه بل هم درواخلئ ! د دومره بېشماره معبودانو دربارونه دی بندوي، او یواځې یو الله یې پرېښی دی، له دې نه بله لویه د تعجّب خبره به څه وي چې د دغومره لوی جهان انتظام یواځې همدغه یو الله ته وسپارلی شي؟.

په روایاتو کې راغلي دي چې د ابو طالب په رنځوری کې ابوجهل او د قریشو څو نور غټان ابو طالب ته ورغلل، او هغه ته یې د رسول الله مبارک شکایت یووړ، چې دغه ستا وراره ځمونږ معبودانو ته بدې ردې خبرې کوي، او مونږ ته په څو څو ډوله (قسمه) احمقان او ناپوهان وایي، تاسو ده ته نصیحت وکړئ !، کله چې ابو طالب دغه خبرې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وکړې؛ ده د هغه په ځواب کې وویل: «ای تره ! زه تشه له دوی نه یوه کلمه غواړم چې وروسته له هغه به ګرد عرب د دوی مطیعان او عجمیان به د دوی خدمتګاران شي، او نور ادیان به ورته جزیه وړاندې کړي»، دوی خوشال شول او ورته ویې ویل: «چې هغه څه شی دي؟ تاسو خو همغه یوه کلمه ووایئ، مونږ ستاسې د لسو کلمو منلو لپاره تیار ولاړ یو»، رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک وفرمایل: «نه ! هغه خو همدا یوه د «لا اله الا الله» پاکه کلمه ده»، کله چې هغوی دغه خبره واورېدله؛ ډېر په قهر او غصه شول، او تاوکړي له هغه مجلسه پاځېدل، او ویې ویل چې: مونږ دومره ډېر معبودان پرېږدو، او فقط ستا په خوله یواځې همدغه یو الله معبود ومنو !، ځئ چې ځو !، نه چې د ده په دغو تبلیغاتو سره د کوم ضعیف الاعتقاد سړي پښه ځمونږ د دغې پخواني آبائي او اجدادي طریقې څخه وښویږي، او دی پخپل مقصد بریالی (کامیاب) شي، د ده د دغې بلیغې سعیې او کوښښ په مقابل کې مونږ ته هم لازم دي چې ډېر زیات صبر، استقلال او استقامت له خپله ځانه ورښکاره کړو».

إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ يُرَادُ ۝

بېشکه دغه شی (توحید) خامخا یو شی دی چې اراده یې کړی شوې ده (له مونږ څخه).

تفسیر: یعنې محمد صلی الله علیه وسلم ځمونږ د معبودانو په خلاف په جهاد لاس پورې کړی دی، ضرور په دغه کې د ده څه غرض شته، او هغه دا دی چې دی د یوه الله په نامه اخیستلو سره مونږ ګرد خپل ځان ته مطیع او محکوم وګرځوي، او خپل ځان ته حکومت او ریاست حاصل کړي، نو لازم دي چې مونږ دی پرې نږدو چې پخپل دغه مقصد کې بریالی او کامیاب شي، ځینې مفسرین د ﴿إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ يُرَادُ﴾ مطلب داسې بیانوي: بېشکه دا همغه شی دی چې محمد صلی الله علیه وسلم د هغه تېنګه اراده کړې ده، او په هیڅ صورت له هغه څخه لاس اخیستونکی نه دی.

مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ ۚ اِنْ هٰذَآ اِلَّا اخْتِلَاقٌ ۝

نه دی اورېدلی مونږ دغه (توحید، وحدانیت) په دین وروستني (عیسوي) کې، نه دی دغه (توحید) مګر له خپله ځانه جوړ کړی شوي دروغ دي.

تفسیر: شاه صاحب (رحمه الله) لیکي: «چې خپل د پلرونو او نیکونو دین ته یې پخوانی دین ونه وایه، یعنې پخوا مو داسې اورېده چې پخوانیو خلقو به هم داسې خبرې کولې، مګر ځمونږ پلرونو خو داسې نه دي کړي، او نه یې دي ویلي»، او ممکن دي چې له پخواني دین څخه عیسایي دین مراد وي، لکه چې د اکثرو اسلافو قول دی، یعنې نصرانیان چې له أهل الکتاب څخه دي، د هغوی په نسبت هم مونږ داسې نه دي اورېدلي چې ګرد نور معبودان له منځه لرې کړي، اوتش یو الله یې پرېښی وي، آخر دوی خو هم درې معبودان مني، او دوی هم دغه رسول د رسول په حیثیت نه مني، او وایي: که د ده د دغو ویناوو کوم اصل په نورو کتابونو کې وی؛ مونږ به هم ضرور منلی وی، معلومېږي چې دغه خبرې ګردې له خپل ځان څخه جوړې کړی شوي دي، (العیاذ بالله).

ءَاُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ مِنْ بَيْنِنَا ۭ

آیا نازل شوی دی پر دغه (محمد) دغه ذکر قرآن له منځ ځمونږ (غټانو).

تفسیر: یعنې بالفرض دغه قرآن هم مونږ په نامنلي زړه د الله تعالی کلام منو، مګر څرنګه محمد صلی الله علیه وسلم په نبوّت سره منتخب شو؟ آیا په ټوله دنیا کې پرته له محمد صلی الله علیه وسلم بل د دې کار لپاره لایق نه وو؟ او همدغه لوی کار فقط همدغه ته پاتې وو؟ او بل کوم مشر، غټ، ستر، مالداره، جایداد لرونکی او بااعتبار سړی په دنیا کې نه مونده کېده چې خپل دغه کلام او د نبوت مهم یې د ده په لاس کې ورکړی وی؟.

بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْ ذِكْرِيْ ۚ بَلْ لَّمَّا يَذُوْقُوْا عَذَابِ ۝

بلکه دوی په شک کې دي له ذکره قرآنه پنده ځما، بلکه نه دی څکلی دوی عذاب ځما (که نه شک به یې ورک شوی وی).

تفسیر: دغه د الله تعالی له طرفه د دوی د دغې خبرې ځواب شو، یعنې د دوی دغه خرافات او واهیات هیڅ اصل او حقیقت نه لري، خبره فقط هم دغومره ده چې اوس دوی ته ځمونږ د خبرو په نسبت څه شک او اندېښنه ورپیدا شوې ده، او دوی پر دغه خبره یقین او باور نه لري چې هغه خوفناک مستقبل چې دوی ته یې خبر او اطلاع ورکوله کیږي، هرومرو واقع کېدونکی هم دی، ځکه چې دوی تر اوسه پورې د الله تعالی د ویشتلو خوند نه دی څکلی، څه مهال چې دوی د الله تعالی د ویشتلو خوند او مزه وڅکي؛ نو دغه ګرد شکوک او شبهات به یې لرې کیږي.

اَمْ عِنْدَهُمْ خَزَاۗىِٕنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِيْزِ الْوَهَّابِ ۝ اَمْ لَهُمْ مُّلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۡ فَلْيَرْتَقُوْا فِي الْاَسْبَابِ ۝

آیا په نزد د دوی دي خزانې د رحمت د رب ستا چې ډېر غالب قوي ښه ښښونکی دی؟. آیا دوی لره دی سلطنت د اسمانونو او ځمکې او د هغو ګردو شیانو چې په منځ د دغو کې دی؟ پس ودې خیژي (دوی اسمان ته) په اسباب (رسوونکیو) سره.

تفسیر: یعنې د رحمت خزائن او د اسمانونو او د ځمکې ګرد حکومت د الله تعالی په لاس کې دی، الله ډېر زبردست او لوی بخښش والا دی، پر هر چا چې د هر انعام اراده وکړي؛ هیڅوک د هغه مانع نشي ګرځېدی، او نه پرې څه تنقید

او اعتراض کولی شي، که الله تعالی پخپل حکمت او علم سره کوم بشر ته د نبوّت او رسالت په منصب سره افتخار وبښي؛ نو تاسې د هغه په نسبت څه مداخله کولی شئ؟ آیا د رحمت د خزائنو او د اسمانونو او د ځمکې واکداره هم دا تاسې یئ؟ که یئ؛ نو خپل ګرد (ټول) وسائل، اسباب مو په کار واچوئ، او په اسمان پورې خپلې رسۍ وتړئ، او پر علویّاتو هم قبضه وکړئ !، او سم له خپلې مرضی سره د اسمانونو او ځمکو په تدبیر او انتظام کې که مو له لاسه پوره وي؛ ګوتې ووهئ !، او که دغه مو له واکه نه وي پوره؛ نو د اسمانونو او د ځمکې د حکومت او د رحمت د خزائنو د مالکیت دعوی بیخي غلطه ده.

جُندٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُومٌ مِّنَ الْأَحْزَابِ ﴿١١﴾

دوی خو یو لښکر ګوتې دی په دغه ځای کې چې ماتې ورکړی شوې، له هغو ډېرو لښکر څخه دي.

تفسیر: یعنې هیڅ نشته !، د اسمانونو او د ځمکې له حکومت او د رحمت د خزائنو له مالکیت سره دغه خواران څه اړه او تعلّق لري؟ دوی خو د څو ماتو او هزیمت خوړلیو انسانانو یوه ډله او جمعیت دی، چې د پخوانیو سپېرو او تباه شوواقوامو په شان لا له اوسه تباه او برباد په نظر رائي، لکه چې دغه منظره د خلقو له نظره د «بدر» له غزوې څخه د مکې معظمې تر فتحې پورې تېره شوه، شاه صاحب (رحمه الله) لیکي: «یعنې پخواني اقوام تباه شول، که دوی هم پر خپل طغیان او عصیان کې همداسې مداومت وکړي؛ نو د هغوی په شان دوی هم تباه او فنا کیږي»، ګواکې د دغه آیت ربط یې له پخواني آیت سره وښود، والله أعلم.

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ ذُو الْأَوْتَادِ ﴿١٢﴾

تکذیب کړی وو پخوا له دوی نه قوم د نوح او (قوم د) عاد او (قوم د) فرعون چې خاوند د میخونو وو.

تفسیر: یعنې زور او قوت او لاو لښکر والا چې په دنیا کې یې د خپل سلطنت میخونه په ځمکه کې ټک وهلي وو، او ځینې وایي: هغه څوک چې سړی به یې په میخونو سره واژه، نو د دغه لامله د هغه نوم هم داسې: ﴿ذُو الْأَوْتَادِ﴾ میخ والا مشتهر شو، والله أعلم.

وَثَمُودُ وَقَوْمُ لُوطٍ وَأَصْحَابُ لْأَيْكَةِ أُولَٰئِكَ الْأَحْزَابُ ﴿١٣﴾ إِن كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ﴿١٤﴾

او (قوم د) ثمود او قوم د لوط او اهل د ځنګله (چې شُعیب ورمبعوث شوی وو)، دغه کسان (همغه) لویې لویې ډلې وې. نه ده (هر یوه د دغو ډلو) مګر نسبت د دروغو یې کړی وو رسولانو د (الله) ته، پس ثابت شو عذاب ځما (دوی ته).

تفسیر: یعنې دغو ټولو لویو زورورو او طاقتورو افواجو هم څه وخت چې د الله تعالی رسولان دروغجن وشمېرل؛ د الله تعالی له سزا او عذاب څخه یې نجات ونه موند، نو ستاسې حقیقت څه دی؟.

وَمَا يَنظُرُ هَٰؤُلَاءِ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً مَّا لَهَا مِن فَوَاقٍ ﴿١٥﴾

او نه کوي انتظار دغه کسان (کفار د مکې) مګر چغې یوې ته (د اسرافیل) چې نشته هغې ته هیڅ ډیل ببر ته ګرځېدل.

تفسیر: یعنې د صور (شپېلی) د غږ منتظر دي، چې پوره سزا خو دوی ته په هغه وخت کې ورکوله کیږي، او ممکن دي چې له «صیحه» څخه دلته فقط یوه چغه او انضجار مراد وي.

وَقَالُوا رَبَّنَا عَجِّلْ لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ الْحِسَابِ ﴿١٦﴾

او وایي (کفار تمسخرًا) ای ربه ځمونږ ! ژر راکړه مونږ ته برخه عملنامه ځمونږ پخوا له ورځې د حساب.

تفسیر: یعنې هر کله چې دوی د قیامت خبرې اوري؛ نو په ټوکو او مسخرو سره وایي چې ځمونږ د هغه وخت برخه اوس راکړه ! تر څو مونږ همدا اوس خپله اعمالنامه وګورو او لاس په لاس له خپلې سزا څخه فراغت ومومو.

اِصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوٗدَ ذَا الْاَيْدِ ۚ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿١٧﴾

(فرمایي الله) صبر تحمّل کوه (ای محمده !) پر هغې خبرې چې وایي دوی (تاته)، او یاد کړه (قصه) د بنده ځمونږ داود خاوند د قوّت (په عبادت کې)، چې بښکه دی ډېر رجوع کوونکی وو (عبادت د الله ته).

تفسیر: شاه صاحب فرمایي: «په دغه ځای کې ده ته د داود علیه السلام قصه ور په یادوي، چې ده هم د «طالوت» د حکومت په عهد کې ډېر صبر کړی وو، څو بالآخر حکومت ده ته ورسېد، او «جالوت او نور» مخالفین ګرد (ټول) سره په جهاد کې پرې او مغلوب شول، چې همدغه وضعیت او نقشه ځمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورپېښه شوه.

اِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهٗ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْاِشْرَاقِ ﴿١٨﴾

بښکه چې مونږ تابع مسخّر کړي مو وو غرونه له دغه (داود) سره چې تسبیح به یې ورسره ویلې په آخره او په اوله برخه د ورځې کې.

تفسیر: یعنې سبا او بېګا کله چې داود علیه السلام په تسبیح کې مشغولېده؛ نو غرونو به هم له ده سره تسبیح ویل، د ده په متعلق څه مضمون د «سبأ» په سورت کې تېر شوی دی، هلته دې ولوست شي !.

وَالطَّيْرَ مَحْشُوْرَةً ۭ كُلٌّ لَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿١٩﴾

او (بل تابع او مسخر کړي وو مونږ) مرغان حال دا چې ټول کړی شوي به وو (صفونه صفونه) هر یو (له دوی) به ده ته رجوع کوونکی وو (په طاعت سره).

تفسیر: یا به ګرد (ټول) له ده سره یو ځای کېدل او د الله تعالی په طرف به یې رجوع کوله کما قال بعض المفسّرین.

وَشَدَدْنَا مُلْكَهٗ

او قوي محکم کړی وو مونږ ملک سلطنت د دغه (داود).

تفسیر: یعنې پر دنیا باندې د ده د سلطنت رعب او دأب مو کېښودی وو، او پخپل نصرت او اعانت سره مو ورته د مختلفو اقسامو کثیر التعداد افواج ورکړي وو، او د ده قدرت او اقتدار مو په ښه شان سره ټینګ کړی وو.

وَاٰتَيْنٰهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴿۲۰﴾

او ور مو کړ ده ته حکمت (نبوّت تدبیر د ټولو امورو) او فصل الخطاب (د حق او باطل بیان شافي په هر مقصد کې).

تفسیر: یعنې لوی مدبّر او پوه وو، د هرې خبرې فیصله به یې په ډېر ښه صورت سره کوله، د وینا په وخت کې به یې ډېر فیصله کوونکی تقریر او وینا کوله، په هر حال الله تعالی ده ته نبوّت، ښه تدبیر، د فیصلې قوّت، او راز راز علمي او عملي کمالات ورعطاء فرمایلي وو، لیکن د ابتلاء او امتحان څخه ده هم نجات ونه موند، چې د هغه قصه اوس بیان فرمایي:

وَهَلْ اَتٰىكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ اِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ﴿۲۱﴾ اِذْ دَخَلُوا عَلٰى دَاوٗدَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ

او آیا راغلی دی تاته (ای محمده !) خبر د جګړې کوونکیو کله چې راوختل په دیوال عبادتخانې ته. کله چې ننوتل پر داود باندې (او ده ولیدل) پس وویرېد (داود) له دوی نه (چې دوی ولې راوختل له دیواله؟ او ولې رانننوتل بې له اجازې نه؟).

تفسیر: داود علیه السلام درې ورځې یې سره داسې تقسیم فرمایلې وې، چې یوه ورځ د عمومي دربار او فصل الخصوماتو لپاره وه، یوه ورځ له خپل اهل او عیال سره اوسېدل، یوه ورځ به خالص د الله تعالی د عبادت لپاره وه چې په دغه ورځ کې بیخي په خلوت کې کښاستل، او پیره دارانو ته به یې امر ور کاوه چې هیچا ته اجازه مه ورکوئ چې ماته راشي.

یوه ورځې چې داود علیه السلام په عبادت کې مشغول وو، یو ناڅاپه څو سړي له دېواله راختلي ده ته مخامخ ودرېدل، داود علیه السلام سره له خپله هغه فوق العاده قوت او شوکت د دغه خلاف التوقّع حرکت څخه وویرېد او متحیر شو، الغرض یو ناڅاپه یې د دغې عجیبې او مهیبې واقعې له لیدلو څخه یې افکار او خیالات مشوش او متفرق شول، او په خپل عبادت کې په همغه خشوع او خضوع چې پخوا مشغول وو؛ نشو مشغولېدی.

قَالُوْا لَا تَخَفْ خَصْمٰنِ بَغٰى بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ فَاحْكُمْ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَآ اِلٰى سَوَآءِ الصِّرَاطِ ﴿۲۲﴾

وویل دوی: مه ویرېږه (مونږ دوه ډلې) جګړه کوونکي یو چې ظلم کړی دی ځینو ځمونږ پر ځینو نورو، پس حکم وکړه په منځ ځمونږ کې په حق سره، او لرې مه غورځوه (ظلم مه کوه پر مونږ باندې)، او برابر کړه مونږ سمې لارې (د انصاف ته).

تفسیر: دغو راتلونکیو ورته وویل چې: تاسې مه ویرېږئ ! او له مونږ ځنې پخپل زړه کې څه فکر او اندېښنې ته لارې مه ورکوئ ! مونږ دواړه ډلې د خپلې یوې جګړې د فیصلې کولو لپاره ستاسې په خدمت کې در حاضر شوي یو، او غواړو چې تاسې د هغې په نسبت یوه منصفانه فیصله وفرمایئ !، کومه بې لارې یا د ټال ورکولو خبره دې ښایي په کې نه وي، ځکه چې مونږ د عدل او د انصاف د سمې لارې د معلومولو لپاره راغلي یو، ښایي د دوی د دغې خبرې له عنوانه داود علیه السلام به لا مبهوت او متعجب شوی وي.

اِنَّ هٰذَآ اَخِيْ لَهٗ تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ نَعْجَةً وَّلِيَ نَعْجَةٌ وَّاحِدَةٌ فَقَالَ اَكْفِلْنِيْهَا وَعَزَّنِيْ فِي الْخِطَابِ ﴿۲۳﴾

بېشکه چې دا (سړی) ورور ځما دی، ده لره نهه نوي مېړې دي، او ما لره يوه مېړه ده، پس وايي دې ماته: کفيل وګرځوه ما د دې (يوې مېړې، او ماته يې راکړه)، او غلبه يې کړې ده پر ما په خطاب خبرو کې هم.

تفسير: يعنې ځمونږ جګړه دغه ده چې: ځما د دغه ورور سره (۹۹) نهه نوي مېړې دي، او له ما سره يواځې يوه مېړه ده، خو دی غواړي چې همغه يوه مېړه هم له ما ځنې په هر ډول سره چې وشي واخلي، او خپل سل مېړې پرې پوره کړي، او بل مشکل دغه دی چې دغه ورور مې همغسې چې په مال او دولت کې له مانه مور او لوړ دی، په ژبه او خبرو کې هم له ما ځخه لوړ او غوړ دی، هر کله چې دی خبرې کوي ما مغلوب او پر کوي، او ګرد اوريدونکي د ده په لوري ګرځي او خبرې کوي، لنډه يې دا چې ځما د حق د اخيستلو لپاره په جبر او تيري سره خبرې کوي.

قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِ ۖ

وويل (داود) خامخا په تحقيق چې ظلم کړی دی ده پر تا په غوښتلو د مېړې (ګډې) ستا (چې يو ځاي يې کړي) له مېړو (ګډو) خپلو سره.

تفسير: داود عليه السلام به د شريعت په قاعده ثبوت او نور شيان طلب کړي وي، او په آخر کې يې داسې وفرمايل چې: «بېشکه که ستا دغه ورور همداسې کوي؛ خو دغه د ده تېری او ناانصافي ده، او غواړي چې په دغې وسيلې د خپل غريب او خوار ورور مال وخوري»، مطلب دا چې مونږ يې نه پرېږدو چې داسې وکړي.

وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الْخُلَطَاءِ لَيَبْغِي بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَقَلِيلٌ مَّا هُمْ ۗ

او بېشکه چې ډېر له خلطاوو شريکانو خامخا ظلم کوي ځينې د دوی پر ځينو نورو مګر ظلم (تېری) نه کوي هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، او کړي يې دي ښه (عملونه)، او ډېر زيات لږ دي (داسې کسان په منځ) د دغو شرکاوو کې.

تفسير: يعنې دغه د شريکانو عادت دی چې يو پر بل باندې ظلم او تېری کوي، قوي حصه دار غواړي چې ضعيف وخوري، او له منځه يې لرې کړي، يواځې د الله تعالى ايماندارە او نېک بندګان له دې نه مستثنى دي چې د هغوی شمېر په دنيا کې ډېر لږ دی.

وَظَنَّ دَاوُودُ أَنَّمَا فَتَنَّاهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهُ وَخَرَّ رَاكِعًا وَأَنَابَ ۩ فَغَفَرْنَا لَهُ ذَٰلِكَ ۖ

او متيقن پوه شو دواد په دې چې بېشکه همدا خبره ده چې وازمويه مونږ دی؛ نو بښنه يې وغوښته له رب خپل او پرمخې پرېوت په دغه حال کې چې رکوع سجده کوونکی وو (الله ته) او بېرته راجع شو (الله ته په توبه سره). پس ومو بښله مونږ ده ته هغه (خطا د ده).

تفسير: د دغې قصې په اثر داود عليه السلام متنبه شو، چې دغه ځما په حق کې يوه فتنه او امتحان وو، په مجرد د دې چې دغه خيال ور پيدا شو، له خپلې دغې خطا ځخه يې معافي وغوښتله، او په ډېر عجز او نياز يې سر په سجده کېښود، آخر الله تعالى د هغه خطا ورمعافه کړه، د داود عليه السلام هغه خطا کومه وه؟ چې د هغې په نسبت په دغو آيتونو کې اشاره ده، دهغه په نسبت مفسرينو ډېرې اوږدې قصې ليکلي دي، مګر حافظ عماد الدين ابن کثير (رحمه الله تعالى) د هغوی په نسبت ليکي: «وقد ذكر المفسرون ههنا قصة أكثرها مأخوذ من الإسرائيليات، ولم يثبت فيها عن المعصوم حديث يجب اتباعه»، «دلته مفسرينو يوه قصه ذکر کړې ده، چې زياته برخه يې اسرائيليات دي، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم ځخه په کې داسې حديث صحيح نه دی راغلی، چې د هغې پيروي واجب وګرځي».

وَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا لَزُلْفَىٰ وَحُسْنَ مَآبٍ ﴿٢٥﴾

او بېشکه ده ته په نزد ځمونږ کې خامخا مرتبه ده، او ښه ځای د ورتلو دی.

تفسیر: یعنې لکه د پخوا په شان ځمونږ د دربار له مقربانو ځخه دی، او په دغې غلطۍ سره د ده په تقرّب او په مرتبه کې څه فرق او توپیر نه دی راغلی.

يَا دَاوُودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ

ای داوده ! بېشکه مونږ ګرځولی مو یې ته خلیفه په ځمکه کې (چې لوی سلطنت مو درکړی دی)، پس حکم وکړه په منځ د خلقو کې په حق سره او متابعت مه کوه د هوا (د نفس په احکامو کې)، پس ګمراه به کړي (دغه هوا) تا له لارې د الله، بېشکه هغه کسان چې ګمراه کیږي له لارې د الله شته دوی ته عذاب سخت.

تفسیر: ای داوده ! الله تعالی په ځمکه کې ته خلیفه ګرځولی یې، لهذا د هغه پر احکامو عمل او تګ وکړه !، او د معاملاتو فیصله سم د عدل او انصاف او د الله تعالی له شریعت سره موافق وکړه !، ځو په هیڅ یوه معامله کې هم د یوې ذرې د نفساني خواهش ادنی شائبه هم پیدا نشي، ځکه چې دغه شی انسان د الله تعالی له لارې ځخه بې لارې کوي، او څه وخت چې انسان د الله تعالی له لارې ځخه بې لارې شو؛ نو بیا دی د ښې ورځې خاوند کېدی نشي.

بِمَا نَسُوا يَوْمَ الْحِسَابِ ﴿٢٦﴾

په سبب د هېرولو د دوی ورځې د حساب لره.

تفسیر: یعنې د الله تعالی د احکامو د هېرولو په سبب به د قیامت په ورځ کې پر دوی باندې سخت عذاب نازلیږي.

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاءَ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا ۚ ذَٰلِكَ ظَنُّ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا مِنَ النَّارِ ﴿٢٧﴾

او نه دی پیدا کړی مونږ دغه اسمان او ځمکه او هغه ګرد مخلوقات چې د دغو دواړو په منځ کې دي په باطله سره، دغه (پیدا کول د دغو په باطلو سره) ګمان د هغو کسانو دی چې کافران شوي دي، پس عذاب هلاک خرابي ده لپاره د هغو کسانو چې کافران شوي دي له اوره (چې سوځي به په کې).

تفسیر: یعنې داسې دې نه ګڼي چې فقط همدغه دنیوي ژوندون دی، چې هغه به په خوړلو، ځښلو او چرچو سره په پای رسوو، او وروسته له هغه حساب، کتاب، ثواب، عقاب هیڅ نشته، دغسې خیالات همغه کسان لري چې وروسته له مرګه پر بل ژوندون اعتقاد نه لري، او ترې انکار کوي، نو د دغسې منکرانو لپاره د دوزخ اور تیار دی.

أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ ﴿٢٨﴾

آیا وبه ګرځوو مونږ هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه) په شان د فساد کوونکو په ځمکه کې؟ (بلکه نه یې ګرځوو)، آیا وبه ګرځوو مونږ پرهېزګاران په شان د بدکارانو؟ (بلکه نه یې ګرځوو).

تفسیر: یعنې ځمونږ د عدل او حکمت اقتضاء داسې نه ده چې نېک ایماندار بندګان له شریرانو او مفسدانو سره برابر او یو شان کړو، یا له ویریدونکیو سره هم هغسې معامله وکړو لکه چې له غاړه غړوونکیو او بېځوفه شریرانو سره یې کوو، نو ضروري شوه چې یو وخت د حساب او کتاب، ثواب او عقاب لپاره وټاکلی شي، لیکن مونږ په دنیا کې ګورو چې خورا ډېر نېک او ایماندار سړي په راز راز مصائبو، آفاتو او بلیّاتو کې اخته او مبتلا وي، او ډېر شریران، بدکاران او بیحیا سړي مزې، چرچې، عیش عشرت کوي، نو لا محاله د دې خبرې تسلیم لازمیږي، چې وروسته له مرګه یو بل حقیقي ژوندون شته، چې په هغه کې سم د صادق مخبر له وینا سره د دغې خبرې فیصله سم د حکمت او مصلحت د اقتضاء سره کیږي، او هلته به د هر صالح او طالح، نېک او بد د اعمالو په نسبت لازمه جزاء سزا صادریږي، نو بیا ﴿یَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ﴾ له اخبار څخه انکار څرنګه صحیح کېدی شي؟.

كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ مُبَٰرَكٞ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٢٩

(دغه قرآن) یو کتاب دی چې نازل کړی مو دی هغه تاته (ای محمده !) برکتناک دی، لپاره د دې چې فکر وکړي (کفّار) په آیتونو د ده او لپاره د دې چې پند واخلي پرې خاوندان د صافو عقلونو.

تفسیر: یعنې کله چې د نېک او بد انجام سره یو شان نشي کېدی؛ نو ضروري وو چې کوم هدایت کوونکی کتاب د رب الأرباب له خوا نازل شي، څو خلق په ښې او معقولې او مقبولې طریقې سره د دوی له انجام څخه مطلع او خبردار کړي، لکه چې په دغه وخت کې دغه کتاب نازل شو، چې ورته قرآن المبین وایي چې د هغه په الفاظو حروفو، نقوشو، معانیو، مضامینو او نورو هر هر څیزونو کې خیر او برکت دی، او په دغه غرض نازل کړی شوی دی، څو خلق د ده پر آیتونو غور او دقّت وکړي، عقلمندان د ده له نصائحو څخه متمتع او منتفع شي، لکه چې د دې آیت نه پخوانی آیت ته ګوري چې په څه صاف فطري او معقولې طریقې سره یې د «معاد» مسئله حل کړېده، چې ډېر لږ عقل لرونکی سړی هم که پرې غور او فکر وچلوي؛ نو پرې صحیحې نتیجې رسیږي.

وَوَهَبۡنَا لِدَاوُۥدَ سُلَيۡمَٰنَۚ نِعۡمَ ٱلۡعَبۡدُۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٞ ٣٠

او ومو بانبه داود ته سلیمان چې ښه بنده وو، بېشکه چې دی ډېر رجوع کوونکی دی (الله ته).

تفسیر: یعنې سُلیمان علیه السلام مو ورته وبانبه، چې د ده ځوی او د ده په شان نبيّ الله او باچا وو.

إِذۡ عُرِضَ عَلَيۡهِ بِٱلۡعَشِيِّ ٱلصَّٰفِنَٰتُ ٱلۡجِيَادُ ٣١ فَقَالَ إِنِّيٓ أَحۡبَبۡتُ حُبَّ ٱلۡخَيۡرِ عَن ذِكۡرِ رَبِّي حَتَّىٰ تَوَارَتۡ بِٱلۡحِجَابِ ٣٢ رُدُّوهَا عَلَيَّۖ فَطَفِقَ مَسۡحَۢا بِٱلسُّوقِ وَٱلۡأَعۡنَاقِ ٣٣

کله چې وړاندې کړی شو په ده باندې په آخر د ورځې کې هغه ګړندي خاصه اسونه په دریو پښو ولاړ او د یوې سوی نو که یې په ځمکه لګولې. نو وویل (سُلیمان) بېشکه زه چې یم غوره مې کړه مینه د اسونو په ذکر د رب خپل تر هغه پورې چې پټ شو (لمر) په پرده کې. (بیا وویل سلیمان): بېرته راولئ دغه آسونه ماته (نو ورته رایې وستل) پس شروع وکړه (سُلیمان) په وهلو د دې (اسونو) په پنډیو او غاړو(یعنې پښې او غاړې یې تري پرې کړې).

تفسیر: کله چې سُلیمان علیه السلام د اسونو په معائنه او کتلو کې مشغول پاتې شو، نو د هغه وخت په لمانځه یا وظیفه کې ذهول پېښ شو، او نسیان د انبیاوو په حق کې محال نه دی، نو ویې فرمایل چې: وګورئ ! د دنیوي مال محبت چې

د دې خبرې سبب شو چې زه د الله تعالی له یاده غافل شوم، تر دې چې د لمر تر پرېوتو پورې هم خپله وظیفه مې ادا نه کړه، سلّمنا چې د دغه مال په محبت کې هم د عبادت یوه ډډه وه، او په هغه کې هم بالمآل د ذوالجلال یاد وو، مګر له خواصو او مقربینو سره دغه فکر او اندېښنې هم لګېدلی دي، چې د هر عبادت هر وخت چې مقرّر دی نه ښایي په هغه وخت کې له سره څه تخلّف واقع نشي، او که احیاناً په کې څه توپیر واقع شي؛ نو د هغه د غم او اندېښنې څخه سخت متأثر او ناآرامه کیږي، اګر که د معذوریت له جهته هم وي.

کله چې هغه اسونه بېرته راوستل شول؛ نو د الله تعالی د محبت له غلبې او د غیرت له شدته يې په توره سره د هغوی غاړې پرې او پنډې غوڅې کړې.

وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمٰنَ وَاَلْقَيْنَا عَلٰى كُرْسِيِّهٖ جَسَدًا ثُمَّ اَنَابَ ﴿۳۴﴾

او خامخا په تحقیق ازمویلی دی مونږ سُلیمان او غورځولی مو وو پر تخت د ده یو جسد (بې روحه) بیا رجوع وکړه ده (الله ته).

تفسیر: په صحیح حدیث کې راغلي چې سُلیمان علیه السلام قسم یاد کړ چې: «زه نن شپه د خپلو ګردو ښځو کره ځم، چې شمېر يې اویا، یا نوي، یا سلو ته نژدې ښځې وې، او ځما هره یوه ښځه به یو یو هلک وځېږوي، چې دغه ټول به د الله تعالی په لاره کې جهاد وکړي»، پرښتې دغه خبره ورالقا کړه چې «ان شاء الله» ووایئ !، سره له دې چې «ان شاء الله» يې په زړه کې وو، مګر په ژبه يې «ان شاء الله» ونه فرمایل، د الله تعالی کارونو ته ګورئ چې له هغه مباشرت څخه د ده د دومره ښځو کره یو وړوکی هم پیدا نشو، یواځې له یوې ښځې څخه یو ناقص مولود موجود شو»، ځینې مفسرین وایي چې: دایه همغه ناقص مولود د ده پر تخت وغورځوه، او ورته يې وویل: «درواخله دا ده ستا د قسم نتیجه !»، همغه يې دلته په «جسد» (جثه) سره تعبیر کړی دی، د دغه وضعیت له لیدلو څخه سُلیمان علیه السلام سره له افسوسه او ندامته د الله تعالی په طرف رجوع وکړه، او د «ان شاء الله» په نه ویلو يې استغفار وکړ، «هو ! مقرّبینو ته زیات ربړونه (تکلیفونه) او زحمتونه پېښیږي»، په حدیث کې راغلي دي: «که ان شاء الله يې ویلي وی؛ نو بېشکه الله تعالی به همغسې کړي وی چې د ده ارزو او تمنّا وه».

قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَهَبْ لِيْ مُلْكًا لَّا يَنْۢبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِيْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿۳۵﴾

وویل (سُلیمان): ای ربه ځما ! مغفرت ښښنه وکړه ماته، او راکړه ماته داسې ملک لوی سلطنت چې نه ښاییږي (او نه وي) بل هیچا لره وروسته له ما څخه، بېشکه همدا ته (ای ځما ربه !) ته ډېر ښونکی ورکوونکی يې.

تفسیر: یعنې داسې عظیم الشأن سلطنت عنایت وفرمایه، چې ماسوا له ما ځنې د بل هیچا په برخه نه وي، او نه بل څوک د هغه اهل ثابت شي، ښایي د سُلیمان علیه السلام دعا پدې خاطر وي چې د الله د دین په نشر کې زیات کوښښ وکړي، او د سلطنت په واسطه د الله دین په ځمکه کې پلی کړي.

فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيْحَ تَجْرِيْ بِاَمْرِهٖ رُخَآءً حَيْثُ اَصَابَ ﴿۳۶﴾ وَالشَّيٰطِيْنَ كُلَّ بَنَّآءٍ وَّغَوَّاصٍ ﴿۳۷﴾

پس مسخر تابع کړ مونږ دغه (سُلیمان) ته باد چې چلېده په امر حکم د ده سره نرم نرم هر چېرته چې اراده به وشوه د ده. او (مسخر کړل مونږ ده ته پیریان) شیطانان هر بناء کوونکی (د عمارتونو) او غوټه وهونکي (په لویو بحارو کې لپاره د ایستلو د جواهرو).

تفسیر: یعنې پیریانو د سُلیمان علیه السلام په حکم ډېر لوی لوی عمارتونه جوړول، او مرغلرې او نور قیمتداره شیان به یې له بحارو او سیندونو څخه په غوټه وهلو سره ایستل، د هوا او د پیریانو د تسخیر او تابع ګرځولو په نسبت پخوا له دې نه د «سبأ» په سورت او په نورو ځایونو کې لازمه تفصیلات لیکلي شوي دي.

وَءَاخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي ٱلْأَصْفَادِ ﴿٣٨﴾

او (تابع مو کړل سلیمان ته) نور (سرکښ شیطانان) ترلي شوي په څنځیرونو کې.

تفسیر: یعنې ډېر نور پیریان وو چې هغوی د سرکشۍ او تمرّد لامله په بندي خانه کې غورځولي شوي وو. (داسې ومو فرمایل سلیمان ته):

هَٰذَا عَطَآؤُنَا فَٱمْنُنْ أَوْ أَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٩﴾

دغه (سلطنت او تسخیر) عطا بخشش ځمونږ ده، پس احسان کوه (له هر چا سره) یا یې وساته (له خپل ځان سره) بې حسابه.

تفسیر: یعنې که چاته عطاء او بخښنه ورکړې یا ورنه کړې؛ مختار یې، دومره بېحساب یې ورکړ، او بیا د حساب او کتاب قید یې هم ترې لرې کړ، شاه صاحب لیکي: «دغه بله مهرباني ده چې دغومره دولت او دنیا یې ورکړه، او مختار یې وګرځوه، حساب او کتاب یې هم ورمعاف کړ، مګر ده به پخپله د خپل لاس له ګټې څخه ډوډۍ خوړه، چې نوکرۍ به یې جوړولې».

وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلْفَىٰ وَحُسْنَ مَـَٔابٍ ﴿٤٠﴾

او بېشکه چې ده ته په نزد ځمونږ خامخا قرب دی (په دنیا کې) او ښه ځای د ورتلو دی (په عُقبی کې).

تفسیر: یعنې سره له سلطنته هغه مرتبه چې ځمونږ په نزد سُلیمان علیه السلام ته حاصله ده، او په اعلی فردوس کې له اعلی څخه اعلی ځای چې د ده لپاره تیار دی؛ هغه خو علیحده او جلا دی.

وَٱذْكُرْ عَبْدَنَآ أَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَسَّنِىَ ٱلشَّيْطَٰنُ بِنُصْبٍ وَعَذَابٍ ﴿٤١﴾

او یاده کړه (ای محمده !) بنده ځمونږ أیوب، کله چې غږ یې وکړ رب خپل ته چې: بېشکه زه چې یم مس کړی یم شیطان په ایذاء او تکلیف سره.

تفسیر: د عظیم الشأن قرآن له تتبّع څخه ظاهریږي، چې په هغو امورو کې چې په کوم پلو کې شر یا ایذاء وي، یا کوم صحیح مقصد فوتیږي؛ د هغه نسبت د شیطان په طرف کیږي، لکه چې د موسی علیه السلام قصه کې راغلي دي ﴿وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيْطَٰنُ أَنْ أَذْكُرَهُۥ﴾ (۱۵ جزء د الکهف سورت (۹) رکوع (۶۳) آیت، ځمونږ د دغه مبارک تفسیر) ځکه چې علی الأکثر د دغه قسم شیانو قریب سبب یا بعید سبب په یوه نه یوه درجه کې شیطان وي، د همدغې قاعدې په موجب ایّوب علیه السلام د خپلې رنځورۍ یا د تکلیف او ربړ نسبت د شیطان په طرف وکړ، ګواکې تواضعًا یا تأدّبًا یې دغه ښکاره کړه چې ضرور له ما ځنې څه تساهل یا کومه غلطي ځما له درجې سره سمه صادره شوې ده، چې د هغې په نتیجه کې دغه آزار راورسېد، یا د مرض په حالت او شدّت کې به شیطان د وساوسو د غورځولو کوښښ کړی وي، او ده به د هغه په مدافعت کې تکلیف او تعب احساس کړی وي، نو هغه یې په «نصب» او «عذاب» سره تعبیر فرمایلی دی، والله أعلم.

تنبیه: د ایوب علیه السلام قصه د «انبیاء» په سورت کې تېره شوې ده، هلته دې وکتله شي !.

نو د الله تعالی جلّ وعلا شأنه وعظُم برهانه له جانبه جبریل علیه السلام ایّوب علیه السلام ته داسې وویل:

ارْكُضْ بِرِجْلِكَ هَٰذَا مُغْتَسَلٌ بَارِدٌ وَشَرَابٌ ﴿٤٢﴾ وَوَهَبْنَا لَهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُمْ مَعَهُمْ رَحْمَةً مِنَّا وَذِكْرَىٰ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿٤٣﴾

ووهه (ځمکه) په پښه خپله (نو ویې وهله او اوبه راووتې)، دغه دی ځای د غسل یخ او اوبه د څښلو (نو غسل یې وکړ، اوبه یې وڅښلې جوړ شو). او ومو بښل دغه (ایّوب) ته اهل د ده او په مثل د دوی له هغوی سره له جهته د مهربانۍ له خپله طرفه، او لپاره د ذکر پند اخیستلو خاوندانو د صافو عقلونو ته.

تفسیر: کله چې الله تعالی داسې اراده وفرمایله چې ایوب علیه السّلام روغ او جوړ وګرځوي؛ نو پرې حکم یې وکړ چې خپله پښه پر ځمکه ووهـه، همدا چې ده خپله پښه پر ځمکه ووهله، د الله تعالی په کامله قدرت له هغه ځایه د یخو اوبو چینه وخوټېده، چې ده په هغه کې غسل وکړ، او له هغو اوبو څخه یې وڅښلې، او همدغه د ده د شفاء سبب شو، او د ده د هغې کورنۍ خلقو په مقابل کې چې مړه شوي وو؛ پخپلې مهربانۍ او فضل سره دوچنده خیلخانه ورعطاء کړه، څو عقلمن خلق د دغو واقعاتو له لیدلو څخه په دې ښه وپوهیږي، هغه بنده چې په مصائبو کې مبتلا کیږي؛ ښایي صبر وکړي، او الله ته رجوع وکړي، څو یې د ده حفاظت، کفایت، کفالت، او اعانت په ښه شان سره وفرمایي، (ومو فرمایه ایّوب ته داسې):

وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِهِ وَلَا تَحْنَثْ ۗ إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا ۚ نِّعْمَ الْعَبْدُ ۖ إِنَّهُ أَوَّابٌ ﴿٤٤﴾

او ونیسه په لاس خپل جارو (د کنګو ـ ډکو) پس ووهـه په هغه جارو (د کنګو ـ ډکو) سره (ښځه خپله)، او مه حانثوه ځان خپل (په ترک د وهلو کې)، بېشکه مونږ وموند دغه (ایّوب) صبرناک (په سختیو) ښه بنده وو دی، بېشکه چې دی ډېر رجوع کوونکی وو الله ته.

تفسیر: ایّوب علیه السلام د رنځورۍ په حالت کې پر کومې خبرې خفه شوی وو، او قسم یې یاد وو؛ کله چې زه روغ شوم نو پر خپله ښځه به سل ګزارونه وکړم، حال دا چې دغه بې بې د ابتلاء په حالت کې د ده صادقه خدمتګاره او صمیمه خادمه وه، اوچندان داسې کوم قصور او خطا یې هم نه درلوده، چې د وهلو وړ وی، نو الله تعالی د ده د قسم د رښتیا کولو یوه طریقه وروښوده، چې فقط همده ته مخصوصه ده، او که نن څوک داسې قسم یادوي؛ نو د هغه د پوره کولو لپاره به دغومره یوه خبره کافي نه وي.

وَاذْكُرْ عِبَادَنَا إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ أُولِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ ﴿٤٥﴾

او یاد کړه (ای محمده !) بندګان ځما ابراهیم او اسحاق او یعقوب خاوندان د قوت او بصیرت وو (کوونکي د صالحو اعمالو لیدونکي د آیات الله).

تفسیر: یعنې په دین کې د قوت او بصیرت خاوندان وو، چې د الله تعالی طاعت او بندګي یې په پوره توګه سره کوله، او الله تعالی ورته په دین کې پوهـه ورکړې وه.

إِنَّا أَخْلَصْنَاهُمْ بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ ﴿٤٦﴾

بېشکه مونږ خالص کړي دي دوی په خالص خوی سره په ذکر یادولو د کور (د آخرت).

تفسير: د انبياوو امتياز دا دی چې د دوی په شان بل هيڅوک د الله تعالی او د آخرت يادوونکي نشته، او د همدغه خصوصيت لامله دوی د الله تعالی په دربار کې له ګردو ځنې زيات ممتاز مراتب او مدارج حاصلوي.

وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ ﴿٤٧﴾ وَاذْكُرْ إِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ ۖ وَكُلٌّ مِّنَ الْأَخْيَارِ ﴿٤٨﴾

او بېشکه دوی په نزد ځمونږ خامخا له غوره کړيو شويو بهترو خلقو (د زمانې خپلې) وو. او ياد کړه (ای محمده !) اسماعيل او اليسع او ذوالکفل (خاوند د ضمانت)، او دغه ټول (مذکورين) وو له خاوندانو د خير (په خلقو کې).

تفسير: د اسماعيل عليه السلام او ذوالکفل عليه السلام ذکر پخوا له دې نه تېر شوی دی، او اليسع عليه السلام د الياس عليه السلام خليفه وو، چې هغه ته هم الله تعالی نبوّت ورعطاء کړی وو.

هَٰذَا ذِكْرٌ ۗ

حال دا چې دغه (بيان د انبياوو) ذکر پند دی (هر پند اخيستونکي ته، يا په دنيا کې ښه ذکر د دوی دی).

تفسير: يعنې دغه مذکور خو د انبياوو ذکر وو، وروسته له دې نه د عامو متقيانو انجام واورئ !.

وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَآبٍ ﴿٤٩﴾ جَنَّاتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْأَبْوَابُ ﴿٥٠﴾

او بېشکه لپاره د پرهېزګارانو خامخا ښه ځای د ورتلو دی (په آخرت کې). جنّتونه دي د همېشه هستوګنې په دې حال کې چې تل پرانستلې وي دوی ته دروازې (د جنتونو).

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «کله چې جنتيان په جنت کې ننوځي؛ نو هر يو جنتي به بې د بل چا د ورښوولو سم برابر خپلې مانۍ او باغ او ټاکلي ځای ته ورځي»، او د دې خبرې ضرورت به ورته نه وي پاتې چې غږ وکړي، يا ناري ووهي، يا د وره د پرانستلو په انتظار کې ودريږي.

مُتَّكِئِينَ فِيهَا يَدْعُونَ فِيهَا بِفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ وَشَرَابٍ ﴿٥١﴾

تکيه وهلي (ناست به وي مؤمنان) په دغو (جناتو) کې چې غواړي به په هغو کې مېوې ډېرې او (خيزونه د) څښلو.

تفسير: قسماقسم مېوې، دانې، خوراک او نور مطلوبه شيان به دوی ته غلمان سم د دوی له غوښتنې سره سم د لاسه ورحاضروي.

وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ أَتْرَابٌ ﴿٥٢﴾

او وي به په نزد د دوی ښځې بندوونکې د سترګو (مېړو ـ خاوندانو خپلو ته) همځولې (پخپل منځ کې، يا له مېړو ـ خاوندانو سره).

تفسير: يعنې ټولې ښځې به پيغلې نوې جونې او په يوه عمر او يوه منګ وي، يا په اشکالو، شمائلو، عاداتو، او اطوارو کې به له خپلو ازواجو سره هم عمر او يو شان وي، نو د الله تعالی له جانبه پرښته به ورته داسې وايي:

هٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُ مِن نَّفَادٍ ﴿٥٤﴾

دا هغه دي چې وعده به يې کوله کېده له تاسو سره (په دنيا کې لپاره د خوښۍ) د ورځې د حساب. بېشکه چې دغه وعده خامخا داسې رزق ځمونږ دی چې نشته ده لره خلاصېدل.

تفسير: يعنې غير منقطع او لازواله نعمتونه دي، چې د هغوی سلسله به له سره هيڅېرې نه ختمېږي، او نه کمېږي.

هٰذَا ۚ وَإِنَّ لِلطَّاغِينَ لَشَرَّ مَآبٍ ﴿٥٥﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا ۖ فَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿٥٦﴾ هٰذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ ﴿٥٧﴾

دغه (حال د مطيعانو وو)، او بېشکه لپاره د سرکشانو خامخا بده مرجع ده. (چې هغه) دوزخ دی چې ننوځي دوی په هغه کې، پس بده بستره ده (دا دوزخ). دا دی عذاب د کفّارو، پس ودې ځکي دوی دا ايشېدلې اوبه (چې ټوټې ټوټې کېږي کُلمې د دوی) او (د دوخيانو د جراحاتو بدبويه) زوې.

تفسير: يعنې د متقيانو او پرهېزګارانو انجام مو واورېد، وروسته له دې نه د شريرانو انجام واورئ ! او بېشکه لپاره د سرکشانو خامخا بده مرجع دوزخ دی، چې ننوځي دوی په هغه کې پس بده بستره ده دا دوزخ، دا دی عذاب، پس ودې ځکي دوی دا، يعنې درواخله ! دغه درحاضره ده د هغه خوند وځکه !، له «غسّاق» څخه ځينې وايي چې د دوزخيانو د پرهارو زوې او وينې او نورې چټلې مراد دي، چې په هغو کې به د مارانو او لړمانو او د نورو زهر هم ګډ وي، او د ځينو په نزد «غسّاق» خورا ډېرو يخو او بې نهايته سړو اوبو ته وايي، چې د هغو له ځکلو څخه له حده زيات تکليف او اذيت وررسېږي، ګواکې په دغه تقدير سره دغه د «حميم» ضد او کامل مقابل دی.

وَآخَرُ مِن شَكْلِهِ أَزْوَاجٌ ﴿٥٨﴾ هٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ ۖ لَا مَرْحَبًا بِهِمْ ۚ إِنَّهُمْ صَالُو النَّارِ ﴿٥٩﴾ قَالُوا بَلْ أَنتُمْ ۖ لَا مَرْحَبًا بِكُمْ ۚ أَنتُمْ قَدَّمْتُمُوهُ لَنَا ۖ فَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿٦٠﴾

او څه بل (قسم عذاب) له قسمه د هغه تېر عذاب راز راز قسمونه. دغه يو فوج دی (د تابعانو) چې ننوتونکي دي په سختۍ له تاسې سره، نه دي وي خوشالي ځای د آرامۍ دوی ته، بېشکه چې دوی ننوتونکي دي اور ته. وايي (دغه تابعان متبوعانو ته) بلکه تاسې چې يئ؛ نه دې وي خوشالي په تاسې (په ځای موندلو د آرامۍ)، تاسې راوړاندې کړی دی دغه (عذاب) مونږ ته، پس بد قرار ځای دی (دا دوزخ).

تفسير: دغه خبرې او اترې به دوزخيان په خپلو منځونو کې سره کوي، څه وخت چې پرښتې دغه دوزخيان پرله پسې په شړلو او ټپل وهلو سره د دوزخ پر څنډو (غاړو) ودروي، ړومبی ډله به د غټانو او سردارانو وي، وروسته له هغه به د دوی د تابعانو او پيروانو وي، د دغو تابعانو د ليدلو په وخت کې به له لرې څخه دغه متبوعان وايي چې: «دغه دی يو بل فوج له تاسو سره يو ځای په ټپل وهلو او کشولو او رابښکودلو سره په دوزخ کې د غورځولو لپاره په زوره راوستل کېږي، د الله تعالی قهر او غضب دې وي پر دوی باندې، دوی هم دلته د عذاب ګالو لپاره راغلل، الله تعالی دې وکړي چې دوی ته په بل کوم ځای کې کوم ارت مکان ورنه کړ شي»، د دغې خبرې د اورېدلو په اثر به هغوی د دوی جواب داسې ورکوي: «ای کمبختانو ! پر تاسې باندې دې د الله تعالی قهر او غضب وي !، پاک الله دې تاسو ته هيڅېرې د هوسايی (راحت) او آرامۍ ځای در نه کړي !، همدغه تاسو وئ چې ځمونږ د اغواء او اضلال وسائل مو را تيار کړي

وو، او مونږ ستاسې له لمسونه او غولولو نه په دغه کنده کې ولويدو، او په دغه سخت مصيبت او آفت کې اخته شو، اوس دغه راوښيئ چې چېرې لاړ شو؟ هر څه چې دي هم دغه ځای د درېدلو ځای دی، په هر ډول (طريقه) سره چې کيږي همدلته خپل ځانونه تر هغه پورې ټينګ او کلک کړئ ! چې ګرد (ټول) سره ومرئ !، او يو پر بل باندې خوله ولګوئ !، او په خپلو منځونو کې سره وخرئ !.

قَالُوا رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا هَٰذَا فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِي النَّارِ ﴿٦١﴾

وبه وايي (تابعان) ای ربه ځمونږ ! هر چا چې رومبی تياره کړې ده مونږ ته دغه لاره (د کفر)؛ پس زيات کړه ورته عذاب دوچنده په اور کې.

تفسير: يعنې په خپل منځ کې به يو بل ته طعن او لعن وايي، او بالآخر الله تعالى ته به داسې عرض کوي چې: «ای ربه ! هغه کسان چې له خپل شقاوته يې دغه بلا او مصيبت ځمونږ پر سر راوستلی دی؛ د دوزخ په دوچنده عذاب يې اخته او مبتلا کړه !».

وَقَالُوا مَا لَنَا لَا نَرَىٰ رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ الْأَشْرَارِ ﴿٦٢﴾ أَتَّخَذْنَاهُمْ سِخْرِيًّا أَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْأَبْصَارُ ﴿٦٣﴾

وبه وايي (مشرکان د کفارو) څه مانع ده مونږ ته چې نه وينو هغه سړي چې وو مونږ چې شمېرلي مو وو هغوی له اشرارو څخه. آيا نيولي مو وو دوی په مسخرو سره يا که کړې (چېې) شوي دي له هغوی څخه سترګې ځمونږ (چې نه يې وينو په دوزخ کې).

تفسير: هلته به دوی وګوري، چې ګرد د دوی دوستان، آشنايان، خپلوان او نور ټولی اعلی او ادنی خلق سره يو ځای غونډ او ټول کړی شوي دي، چې ګرد سره يو ځای په دوزخ کې وغورځول شي، مګر د هغو مسلمانانو پته او درک به دوی ته نه وي معلوم چې دوی له هغوی سره آشنايي او پېژندګلوي درلوده (لرله)، او پرې ټوکې او مسخرې به يې کولې، نو په حيرت او افسوس سره به داسې ووايي چې: مونږ څرنګه غلط کارونه کول چې له هغوی سره به مو مسخرې او ټوکې کولې، حال دا چې دوی د هغو وړ (لايق) او قابل نه وو، همدا ده چې نن هغوی هيڅ د دوزخ په شاوخوا او اطرافو کې نه ښکاري، يا خو هغوی هم په همدغو خلقو کې دي، مګر په سترګو نه ښکاري، يا ځمونږ له سترګو څخه بيخي چېرې الوتي دي.

إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ ﴿٦٤﴾

بېشکه دغه (مذکوره قصه د اهل النار) خامخا حقه ربښتيا ده جګړه کول د دوزخيانو په منځ خپل کې.

تفسير: يعنې په ظاهر سره دغه خبره خلاف القياس ښکاري، چې په هغې وېرې او خوف او پرېشانۍ کې به دوی يو له بل سره جګړې او مناقشې کوي، او دوی به څرنګه د عذاب په دغې هولناکې منظرې کې بل لوري ته متوجه کېدی شي؟ مګر په ياد يې ولره چې همداسې به کيږي، او دغسې پېښه بيخي په يقيني او واقعي ډول پېښيدونکې ده، چې په کې هيڅ د شک او شبهې ځای نشته، او په حقيقت کې دغه د هغوی د عذاب تکميل دی.

قُلْ إِنَّمَا أَنَا مُنذِرٌ ۖ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ ﴿٦٦﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) بېشکه همدا خبره ده چې زه ويروونکی يم (له عذابه)، او نشته هيڅ بل حق معبود بې له الله چې يودی، ډېر قهر کوونکی دی. رب د اسمانونو او د ځمکې او د هغو

ټولو شیانو دی چې په منځ د دوی کې دي (ملکًا خلقًا وعبیدًا)، نه غالب قوي دی (په انفاذ د احکامو) نه بښونکی دی (د خطیّاتو).

تفسیر: ووایه ای محمده منکرانو ته ! چې ځما کار خو هم دغومره دی چې تاسې د هغه راتلونکي خوفناک ساعت له راتګه باخبره کړم، باقي ستاسې معامله او سوال او ځواب له هغه حاکم او قاضي سره چې واقع کېدونکی دی؛ هغه خو همغه أحکم الحاکمین واحد الله تعالی دی، چې د هغه په مخ کې هیڅ لوی او وړوکی له سره سا نشي اخیستی، او هر شی او هر څوک د ده په مقابل کې عاجز، ناتوانه او ضعیف دی، د اسمانونو او ځمکې په منځ کې هیڅ یو شی داسې نه دی چې د ده تر تصرّف لاندې نه وي، تر هغه وخته پورې چې د ده اراده وي؛ دغه علویّات او سفلیّات قائم ساتي، او څه وخت چې اراده وفرمایي؛ ویجاړوي یې، د دغه عزیز قوي غالب الله تعالی لاس څوک نیولی شي؟ او د ده د زبردستې قبضې څخه هیڅوک نه وتلی او نه تبښتېدلی شي؟ او ورسره د ده د لامحدوده او بې نهایته رحمت او بښنې په محدودولو او محصورولو کې هیڅوک هیڅ وسعه او اقتدار نه لري.

قُلْ هُوَ نَبَؤٌا عَظِيمٌ ﴿٦٧﴾ أَنتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُونَ ﴿٦٨﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) دغه (قرآن یا عذاب) خبره ډېره لویه ده، چې تاسې له دې نه مخ ګرځوونکي یئ (او هیڅ غور په کې نه کوئ).

تفسیر: یعنې قیامت او د هغه سخت اهوال کوم معمولي شی نه دی، او ډېر لوی، درونده، مهم مصیبت او غټه خبره ده، چې زه د هغه خبر تاسې ته درکوم: ﴿عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ * عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ * الَّذِي هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ﴾ (۳۰ جزء، د النبأ سورت (۱) رکوع (۱ - ۳) آیتونه)، مګر افسوس چې تاسې له هغه څخه بیخي بېفکره یئ، او پر هر هغه شي چې د تاسې د خیر او ښېګڼې (فائدې) لپاره ویل کیږي؛ هیڅ فکر، غور او دقّت نه کوئ.

مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَإِ الْأَعْلَىٰ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٦٩﴾ إِن يُوحَىٰ إِلَيَّ إِلَّا أَنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٧٠﴾

نشته مالره هیڅ قدر علم پوهه په هغه ټولې ډېر پورته لوی (د ملائکو) کله چې سره جګړې یې کولې. وحي نه کوله کیږي ماته مګر د دې چې بېشکه همدا خبره ده چې زه ویروونکی یم ښکاره (له عذابه).

تفسیر: «ملأ الأعلی» یعنې پاسنی جرګه، د مقرّبینو ملائکو او د نورو مجلس دی، یعنې په «ملأ الأعلی» کې د عالم د نظام د فناء او بقاء په متعلق کوم تدابیر یا ابحاث او قیل او قال چې کیږي؛ زه له هغو څخه نه وم خبر، چې تاسې ته به مې د هغه بیان کاوه، پر کومو خبرو باندې چې زه د الله تعالی له طرفه مطلع شوی یم، هغه مې بیان کړي دي، زه هر څه چې وایم، د همغه الله تعالی د وحي له مخې یې وایم، ماته داسې حکم راکړی شوی دی چې ګرد عالم د هغو له راتلونکي مستقبل څخه خبردار کړم، پاتې شوه دغه خبره چې قیامت کله راتلونکی دی؟ نه د انذار لپاره زه دغې خبرې ته څه ضرورت لرم، او نه د دې خبرې اطلاع چاته ورکړی شوې ده.

إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا مِّن طِينٍ ﴿٧١﴾

(یاد کړه) هغه وخت چې وفرمایل رب ستا پرښتو ته چې بېشکه زه پیدا کوونکی یم د یو بشر (آدم) له خټې څخه.

فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي

پس کله چې برابر کړ ما (قالب د) هغه (په ښه شکل سره) او پو کړ ما په هغه قالب کې له روح خپل.

تفسیر: یعنې قالب کالبوت یې په ډېر ښه ډول سره جوړوم، بیا په کې خپل روح پوکم، شاه صاحب لیکي: «روحي ـ خپله سا» یې ځکه وفرمایله چې هغه له اوبو او خاورې څخه نه دی جوړ شوی، او د غیب له عالمه راغلی دي، څه مضمون د روح په متعلق د «بني اسرائیل» په سورت کې ځمونږ په دغه مبارک تفسیر کې پخوا لیکلي شوي دي، هلته د روح پر اضافت هم څه رڼا غورځولی شوې ده، ښایي چې هغه دې ولوست شي !.

فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ ﴿٧٣﴾ فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴿٧٤﴾ إِلَّا إِبْلِيسَ اسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿٧٤﴾

پس پرېوځئ (تاسې ټول ای پرښتو ! تعظیمًا) ده ته سجده کوونکي. پس سجده وکړه ملائکو ټولو دوی ګډدو. مګر ابلیس (چې هغه ونه کړه سجده) او لویي وکړه، او وو دی (په علم د الله کې) له کافرانو.

تفسیر: دغه د آدم علیه السلام قصه په «البقره» او «الأعراف» او په نورو سورتونو کې پخوا له دې نه هم تېره شوې ده، او د «الأعراف» په تفاسیرو کې مو مفصّل بحث پرې کړی دی، هلته دې ولوستل شي !.

قَالَ يَا إِبْلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ

وفرمایل (الله): ای ابلیسه !څه څیز منع کړی یې ته له دې نه چې سجده وکړې (ته) هغه څیز ته چې پیدا کړی دی ما په دواړو لاسونو خپلو.

تفسیر: دا آیت په دې څرګند دلیل دی، چې د الله تعالی لپاره دوه لاسونه دي څرنګه چې د هغه د شان سره مناسب وي، تشبیه بیانول، یا کیفیت بیانول یې کفر دی، او په معنی کې یې تحریف باطل دی.

أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ الْعَالِينَ ﴿٧٥﴾

آیا تکبّر دې وکړ یا که یې ته له لویانو.

تفسیر: آیا په قصد او عمد سره دې خپل ځان لوی وګڼه، یا په واقع کې ته خپل مرتبه لویه بولې.

قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ ﴿٧٦﴾

وویل (ابلیس په ځواب کې) زه غوره یم له دغه (آدم) څخه، پیدا کړی دې یم زه له اوره، او پیدا کړی دې دی دغه (آدم) له خټو.

تفسیر: د «الأعراف» په سورت کې د دې بیان تېر شوی، شاه صاحب لیکي: «اور دی ګرم، پرجوشه، او خاوره ده یخه او خاموشه، ابلیس اور ښه وګڼه، او پاک الله خاوره غوره او خوښه کړه».

قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٧٧﴾

وفرمایل (الله): پس ووځه له جنته، پس بېشکه ته رټلی شوی یې.

تفسیر: یعنې شیطان جنت ته د پرښتو د ملاقات لپاره ورتلو، اوس له هغه ځایه وویست شو، او ورته وویل شول، چې ووځه له جنته، پس بېشکه ته رټلی شوی یې له رحمته، ویشتلی شوی یې په شُغلو سره.

وَّاِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِيْٓ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ۝۷۸

او بېشکه پر تا دی لعنت ځما تر ورځې د جزاء پورې.

تفسیر: یعنې تر هغه وخته پورې پر تا باندې ستا د اعمالو د شامت لامله لعنت وریږي، او ستا د شقاوت مرتبې زیاتیږي، وروسته له هغه چې عذاب او بلیّات چې پر تا نازلیدونکي او ته په هغو کې اخته کېدونکی یې، د هغه له احواله څه پوښتنې مه کوه !، وروسته راځي چې ﴿لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ اَجْمَعِيْنَ﴾، د اخروي لعنت په مقابل کې دغه دنیوي لعنت هیڅ اهمیت نه لري.

قَالَ رَبِّ فَاَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ۝۷۹

وویل (ابلیس) ای ربه ځما ! پس مهلت راکړه ماته تر هغې ورځې پورې چې پورته کولی شي مړي له قبرونو نه.

تفسیر: یعنې د صور (شپیلی) تر دویمې نفخې پورې.

قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ۝۸۰ اِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ۝۸۱

وفرمایل (الله): پس بېشکه ته (ای ابلیسه !) له مهلت ورکړ شویو ځخه یې. تر ورځې د وخت معلوم پورې، (چې نفخة الأولی ده).

قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝۸۲ اِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ ۝۸۳ قَالَ فَالْحَقُّ وَالْحَقَّ اَقُوْلُ ۝۸۴

وویل (ابلیس) پس قسم دی په عزّت ستا چې خامخا ګمراهان به کړم هرومرو دوی ټول. مګر هغه بندګان ستا له دوی ځخه چې خلاص کړی شوي دي (له شرک شک عصیان ځخه چې مؤمنان دي). نو وفرمایل (الله) چې پس حقه خبره همدا ده او حقه خبره زه وایم.

تفسیر: یعنې ځما ګردې خبرې رښتیا او په واقع سره برابرې او منطبقې وي.

لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝۸۵ قُلْ مَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ ۝۸۶ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ۝۸۷ وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَاَهٗ بَعْدَ حِيْنٍ ۝۸۸

خامخا ډک به کړم دوزخ له تا نه (او ستا له اولاد نه) او له هغه چا نه چې متابعت یې کړی وي ستا له دغو (انسانانو) نه له ټولو ځخه. ووایه (ای محمده ! دوی ته) نه غواړم زه له تاسې په دې (قرآن یا تبلیغ) ځان ته هیڅ اجر او نه یم زه له تکلّف کوونکیو نه (په جوړولو د قرآن کې له ځانه). نه دی دغه (قرآن) مګر پند دی لپاره د عالمیانو. او خامخا عالمان پوه به شئ په خبر (د صدق) د دې (قرآن) لږ وروسته (پس له یو مدّت چې د قیامت ورځ ده).

تفسیر: یعنې له نصیحت څخه دا غرض دی چې تاسې د خپل دوست او دښمن په منځ کې سره فرق او تمییز وکړئ !او د لعین شیطان په لاره چې ستاسې ازلي دښمن دی مه ځئ !، د انبیاوو خبره ومنئ چې ستاسې د خیر غوښتنې لپاره لیږلي شوي دي، زه له تاسې څخه د دغه نصیحت څه اجر، صله او معاوضه نه غواړم، او نه څه شی له خپله ځانه جوړوم، چې تاسې ته یې وایم، هر هغه شی چې پاک الله زه پرې پوهولی یم؛ همغه زه له تاسې سره وایم او دررسوم یې، لږ مدّت وروسته تاسې به پخپله معلوم کړئ چې دغه اخبار او اطلاعات چې تاسې ته درکړی شوي دي، تر کوم ځای پورې صحیح او درست دي؟ او کوم نصائح چې کړی شوي دي، څرنګه ږښتیا او مفید وو.

تمّت سورة «صٓ» بعون الله رب العباد، وحسن توفیقه، ولله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الزُّمَرِ

«د (الزّمر) سورت مکّي دی، پرته له (۵۲، ۵۳، ۵۴) آیتونو چې مدني دي، (۷۵) آیتونه او (۸) رکوع لري، په تلاوت کې (۳۹) او په نزول کې (۹۵) سورت دی، وروسته د «السبأ» له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ①

رالېږل د دې کتاب (قرآن پر محمد) دي له (جانبه د هغه) الله چې ډېر زبردست قوي غالب، د حکمتونو څښتن دی.

تفسیر: کله چې زبردست او زورور او غالب (په انفاذ د احکامو) دی، نو ځکه د هغه کتاب انتشار او انفاذ او اجراء مومي، او هیڅ یو مقابل او مزاحم د ده د شیوع او د انفاذ مخه نشي نیولی، او حکیم دی چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي، نو ځکه د دنیا هیڅ یو کتاب د ده له محاسنو او ښېګڼو سره مقابله نشي کولی.

اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ② اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ ۚ

بېشکه مونږ نازل کړی دی تاته (ای محمده !) کتاب (قرآن) په حقه سره پس عبادت کوه د الله حال دا چې خالص کوونکی یې دغه (الله) ته د دین (خپل له شرک). واورئ خبردار اوسئ ! خاص الله لره دی دین (او طاعت) خالص.

تفسیر: یعنې حسب المعمول د الله تعالی تل داسې بندګي کوئ چې د شرک او ریاء او له نورو شوائبو څخه پاک وي، او د الله تعالی په طرف قولاً او فعلاً خلقو ته دعوت او بلنه کوئ ! او اعلان وفرمائ چې الله تعالی همغه بندګي قبوله فرمایي؛ چې خالصه د هغه لپاره وي، د الله تعالی په دربار کې د هغه عمل له سره پوښتنه نه کیږي چې له اخلاصه تش وي.

وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ۘ مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِيْ مَا هُمْ فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ۭ

او هغه کسان چې نیولي یې دي غیر له دغه (الله) څخه نور دوستان (وایي) نه کوو عبادت د دوی مګر لپاره د دې چې نژدې کړي دوی مونږ طرف د الله ته نژدې کول، بېشکه الله به فیصله کوي په منځ د دوی کې په هغه څیز کې چې دوی په هغه سره اختلاف کوي.

تفسیر: عمومًا مشرکینو به داسې ویل چې: مونږ د دغو وړوکیو معبودانو او بُتانو عبادت ځکه کوو چې دوی ځمونږ د نزدیکی او قرب وسیله د پاک الله په دربار کې کیږي، او هغه پر مونږ مهرباني وفرمایي چې په دغه وسیله سره ځمونږ کار یو سر او صورت نیسي، د هغه ځواب یې وفرمایه چې په دغو چتي حیلو (بهانو) سره چې تاسې په خالص توحید کې جګړې او مناقشې وړاندې کوئ، او له اهل الحق سره اختلاف کوئ، نو د هغه عمل فیصله به د الله تعالی له طرفه وروسته له دې نه وکړه شي.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ ﴿٣﴾

بېشکه الله نه ښيي سمه لاره د هدايت هغه چا ته چې دی دروغجن وي ناشکره.

تفسير: يعنې هر چا چې پخپل زړه کې دغه خبره غوټه کړي وي، چې زه به له سره رښتيا خبره نه منم، او تل به په دروغو او ناحقو خبرو ټينګ ولاړ يم، او له حقيقي منعم څخه مخ اړوم، او د باطلو معبودانو عبادت کوم؛ نو د الله تعالى دا عادت دی چې دغسې بد باطنانو ته د فوز، فلاح، بري او کاميابۍ لاره نه ښيي.

لَوْ أَرَادَ اللَّهُ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَدًا لَاصْطَفَىٰ مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ سُبْحَانَهُ ۖ

که چېرې اراده فرمايلي وی الله د دې چې ونيسي ولد؛ نو خامخا غوره کړی به يې وی له هغه مخلوقه چې پيدا کوي يې هر هغه چې اراده يې فرمايلي وي، پاکي ده الله لره (له ولده او ټولو عيوبو).

تفسير: مطلب دا دی: که په فرض المحال سره الله تعالى داسې اراده فرمايلي وی چې د ده کوم اولاد وي؛ نو ښکاره ده چې ده به له خپله مخلوقه کوم يو د دغه کار لپاره غوره کوو، ځکه چې له دلايلو څخه ثابت شوي دي چې له يوه الله څخه ماسوا نور ټول شيان د همغه الله مخلوق دي، اوس ظاهر دي چې په مخلوق او خالق کې په هيڅ توګه اشتراک نشته، بيا يو د بل پلار يا ځوی څرنګه کېدی شي؟، علاوه پر دې فرض يې کړئ که دغه کار محال هم نه وي؛ نو بيا د پرښتو لونې ګرځول خو په هيڅ ډول په فهم او پوهه کې نشي راتلی، نو کله چې له مخلوقه څخه انتخاب وټاکلی (مقرر کړی) شي؛ نو بيا د دغې خبرې مقصد به څه وي چې خوار او سپک اولاد (يعنې لورګانې) ځان ته غوره کړي، او دروند او پتمن اولاد تاسې ته غوره او در يې کړي.

هُوَ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٤﴾

همدی دی الله يواځې (بې شريکه) ډېر غالب (پر هر شي).

تفسير: يعنې هر څيز د الله تعالى په مخ کې عاجز ناتوانه ټيټ او ښکته دی، د هيڅا اثر او نفوذ پرې نشته، او نه کوم شي ته اړ او محتاج دی، نو بيا د اولاد جوړول او لرلو معنی او غرض به څه وي؟.

خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۖ يُكَوِّرُ اللَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى اللَّيْلِ

پيدا کړي دی (الله) اسمانونه او ځمکه په حقه سره (چې دليل شي په وجود د صانع مطلق او په استحقاق يواځې د هغه د عبادت)، تاووي (نغاړې داخلوي الله) شپه پر ورځې، او تاووي (نغاړې داخلوي الله) ورځ په شپه کې (يا زياتوي د شپې نه په ورځې او له ورځې نه په شپې باندې).

تفسير: په ماښام کې که د لمر خاته په لوري وګورئ؛ نو داسې به درښکاري چې افق څخه يوه تکه توره لويه پرده راپورته کېږي، چې له خپل مخ څخه د ورځې رڼا د لمر لوېدلو په لوري تاووي او ورنغاړي يې، همداسې ګهيځ (سحر وختي) د سپېدې داغ په وخت کې داسې ښکاري چې د ورځې رڼا د شپې تياره د لمره خاته له خوا راشړي، او د لمر خاته له خوا راشړي، او د لمر پرېوتلو په لوري يې ټبل وهي.

وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى ۗ أَلَا هُوَ الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ ﴿٥﴾

او مسخر کړي په کار لګولي يې دي لمر او سپوږمی، چې هر يو روان دی تر نېټې معلومې کړی شوې پورې (چې ورځ د قیامت ده)، واورئ خبردار شئ چې: الله زبردست قوي غالب ښه بخښونکی دی.

تفسیر: يعنې په همدغه زبردست قدرت سره يې دغه انتظام قايم او دائم او ټينګ کړی دی، د خلقو ګستاخي، سپين سترګي او شرارتونه خو داسې دي چې ښايي د هغه په ملحوظ دغه ګرد انتظامات ګډوډ او درې وړې کړی شي، ليکن کله چې الله تعالی لوی بښونکی او درګزر کېدونکی ذات دی، نو د خپلې عفوې او مغفرت له شانه يوځلې داسې نه کوي.

خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ الْاَنْعَامِ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ؕ

(الله) پيدا کړي يئ تاسې له نفس يوه (آدم) څخه، بيا يې پيدا کړه له دغه (نفس واحد يعنې آدم) څخه جوړه د ده (حواء)، او نازل (پيدا) يې کړل ستاسو د نفعې لپاره له چارپايانو څخه (لکه اوښان، غوايان، پسونه، اوزې) اته جوړې (نر او ښځې).

تفسیر: يعنې آدم عليه السلام او د ده جوړه بي بي حواء رضي الله تعالی عنها يې پخپل قدرت سره پيدا کړل، يعنې نر او ښځې او ستاسې د نفعې او ګټې اخيستلو لپاره په انعامو او مواشيو کې يې هم اته جوړې پيدا کړې، اوښ، غوايي، پسه، وزه، چې د هغوی ذکر د انعام په سورت کې تېر شو.

يَخْلُقُكُمْ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنْۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِيْ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ ؕ

پيدا کوي (الله) تاسې په ګډوو د مينډو ستاسې کې يو قسم پيدايښت وروسته له يو بل قسم پيدايښت په تيارو دريو کې (چې مشيمې او د رحم او د ګډوې دي).

تفسیر: يعنې په تدريج سره مو پيدا کړ، مثلاً له نُطفې څخه علقه، او له علقې څخه مضغه، او بيا مو ترې هډوکي پيدا او د هغه له پاسه مو غوښه ورشنه کړه، او بيا مو په هغه کې روح ورپو کړ، فسُبحان الله أحسن الخالقين.

﴿فِيْ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ ؕ﴾ «په تيارو دريو کې» يعنې يوه ګډوه بل رحم، دربم هغه پرده (پېلار) چې په منځ کې يې مولود پيدا کيږي، او مولود په کې تاو شوی متولد کيږي.

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ؕ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ۝

دغه (موصوف په دغو صفاتو) الله دی رب ستاسې خاص ده ته دی ملک سلطنت (بې زواله)، نشته بل هيڅوک لايق د عبادت مګر همدی يواځې، پس کوم طرف ته ګرځولی شئ تاسې (له عبادت د ده نه).

تفسیر: يعنې کله چې خالق، رب، مالک، او ملک همدی دی؛ نو ماسوا له ده څخه بل څوک څرنګه معبود کېدی شي؟ وروسته له دې نه چې تاسې واحد الله تعالی په دغو صفاتو سره موصوف ګڼئ او پرې اقرار کوئ، نو بيا نورو مخلوقاتو ته ولې عبادت کوئ؟ مطلب دا چې وروسته له دومره ورنژدې رسېدلو نو بيا ولې سمه لاره در څخه ورکيږي؟ او دغه پر بلې لارې ولې درومئ؟.

اِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ ۚ وَلَا يَرْضٰى لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ ۚ

که چېرې کفر اختیار کړئ تاسې؛ پس بېشکه الله غني بې پروا دی له تاسې (او ستاسې له عبادته)، او نه خوښوي (الله) لپاره د بندګانو خپلو کفر.

تفسیر: یعنې که کافر کېږئ، او د الله تعالی له انعاماتو او حقوقو څخه انکار کوئ؛ نو په دغه کې پخپله ستاسې نقصان دی، او د الله تعالی هیڅ یو شی تاسې نشئ خرابولی، هو ! هرومرو الله تعالی په کفر خوښ او رضا نه دی، او د خپلو بندګانو پر کفر نارضاء کیږي، او دغه شیان دوی ته نه خوښوي.

وَإِن تَشْكُرُوا يَرْضَهُ لَكُمْ

او که شُکر وباسئ؛ نو خوښوي دغه شکر ایستل تاسې ته.

تفسیر: یعنې که بندګان د الله تعالی حق ومني، او ده ته مطیع او شکر ګزار شي؛ نو دغه خبره د الله تعالی خوښه ده، او د هغه نفعه هم دوی ته رسیږي.

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ

او وابه نخلي بار هیڅ بار اخیستونکی بار د ګناهونو د بل چا.

تفسیر: یعنې داسې کیدونکي نه دي چې یو سړی ناشکري وکړي، او په جرم او ګناه یې بل څوک ونیولی شي.

ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ۝

بیا خاص رب ستاسې ته بېرته ورتله ستاسې دي، پس خبر به کړي تاسې پر هغو (عملونو) چې وئ تاسې چې کول به مو (په دنیا کې)، بېشکه دغه (الله) ښه عالم دی په خبرو د سینو (د زړونو په پټو نیاتو هم).

تفسیر: کله چې دوی هلته وررسیږي، د دوی ګرد ښه او بد اعمال د دوی په مخ کې وړاندې کیږي، او د دوی هیڅ لوی یا وړوکی کار به له منځه نه وړک کیږي، ځکه چې د الله تعالی له محیط علم څخه هیڅ یو شی خارج نه دی، الله تعالی د زړونو له پټو خبرو او نیاتو څخه هم علیم او خبیر دی، او په هر شي په ښه شان سره پوهیږي.

وَإِذَا مَسَّ الْإِنسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهُ مُنِيبًا إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُ نِعْمَةً مِّنْهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدْعُو إِلَيْهِ مِن قَبْلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلَّ عَن سَبِيلِهِ ۚ

او کله چې ورسیږي انسان (کافر) ته کوم قسم سختي؛ نو بولي رب خپل په دې حال کې چې رجوع کوونکی وي خاصه همده ته، بیا هر کله چې ورکړي (الله) ده ته نعمت له خپل جانبه؛ نو هیر کړي هغه (ذات الله) چې وو دی چې په کې باله به یې (تضرّع به یې کوله) هغه (الله) ته پخوا له دې نعمته، او ګرځوي الله ته شریکان (په عبادت کې) لپاره د دې چې ګمراه کړي (خلق) له لارې د الله (چې دین د اسلام دی).

تفسیر: یعنې د انسان حالت او وضعیت عجیب دی، کله چې پرې کوم غم او مصیبت واقع شي؛ نو مونږ یې په یادیږو، ځکه چې دی ښه پوهیږي چې ماسوا الله څخه بل هیڅوک د دغه مصیبت لرې کوونکی نشته، بیا هر کله چې د الله تعالی په مهربانی سره لږ څه آرام او اطمینان یې په نصیب شي؛ سمدلاسه دی خپل همغه پخواني حالت ته مراجعت

کوي، او هغه پاک الله تري هيريږي چې همدا اوس د هغه په دربار کې يې عرضونه او دعاوې کولې، او نارې او سورې يې وهلې، او د عيش او تنعم په نشو کې داسې مست او غافل کيږي چې ګواکې له سره ځمونږ سره يې واسطه او علاقه نه وه، د الله تعالى د ورکړيو نعمتونو نسبت نورو معبودانو ته منسوبوي، او له هغوی سره همغسې سلوک او معامله کوي چې ښايي له واحد الله تعالى سره وکړی شي !، په دې ډول سره همدوی پخپله ګمراه کيږي، او هم پخپلو دغو اقوالو او اعمالو سره نور خلق بې لارې او ګمراه کوي.

قُلْ تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ قَلِيلًا ۖ إِنَّكَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ ﴿٨﴾

ووايه (ای محمده ! دغه کافر ته) چې نفع واخله په کفر خپل لږ (مدّت په دنيا کې)، بېشکه ته له خاوندانو د اور (د دوزخ) يې.

تفسير: يعنې ښه ده، ځو ورځې د همدغه کفر په حالت کې دلته عيش او عشرت وکړئ، او تر هغه پورې چې الله تعالى تاسې ته مهلت درکړی دی، د دنيا له نعمتونو څخه فائده واخلئ !، او تري متمتع شئ !، وروسته له دې نه به ستا د هستوګنې ځای دوزخ وي، چې له هغه ځايه له سره نشې وتلی، او تل به هم هغلته پراته يئ، او له سره به دې نجات نه په برخه کيږي.

أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سَاجِدًا وَقَائِمًا يَحْذَرُ الْآخِرَةَ وَيَرْجُو رَحْمَةَ رَبِّهِ ۗ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٩﴾

آيا هغه څوک چې دی طاعت کوونکی وي په ساعتونو د شپې کې سجده کوونکی او ولاړ (په لمانځه)، ويريږي (له عذابه) د آخرت، او اميد لري د رحمت د رب خپل؛ (داسې دی لکه هغه څوک چې بې فرمانه وي په کفر او نورو بديو)؟ ووايه (ای محمده !) آيا برابر دي سره هغه کسان چې پوهيږي او هغه کسان چې نه پوهيږي (جاهلان وي؟، بلکه برابر نه دي)، بېشکه همدا خبره ده چې پند اخلي خاوندان د خالصو عقلونو.

تفسير: يعنې هر هغه بنده چې د شپې خوب او آرامي پريږدي، او د الله تعالى په عبادت کې لګيا کيږي، کله د ده په حضور کې لاس تړلی دريږي، کله په سجده ورته لويږي، له يوه جانبه د ده زړه د آخرت له وېرې بې قراره کړی شوی وي، او له بل جانب د الله تعالى رحمت او مهربانی ته هيلمن وي، آيا دغه سعيد بنده او هغه بدبخته انسان چې ذکر يې پاسو وشو، چې د مصيبت په وخت کې الله تعالى ته نارې وهي، او څه مهال چې مصيبت له ده نه لري کيږي نو الله هم تري هيريږي؛ سره برابر کېدی شي؟ بلکه نه ! له سره نشي سره برابر کېدی، په همدغې خبرې باندې همغه پوهېدی شي او غور کولی شي چې پاک الله ورته څه عقل او پوهه ورکړې وي.

قُلْ يَا عِبَادِ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۗ

ووايه (ای محمده ! دوی ته د الله له جانبه) ای بندګانو ځما هغه چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) ووېرېږئ له (عذابه د) رب خپل، شته هغو کسانو ته چې نيکي يې کړې ده په دغه دنيا کې (په طاعت سره) ښه حالت، نيکي (ده په آخرت کې چې جنت او رضوان دی).

تفسير: يعنې هر هغه څوک چې په دنيا کې نيکي وکړي؛ نو په آخرت کې هم د ده لپاره ښه حالت دی، يا يې دا مطلب: هر چا چې نيکي وکړه هغه ته پخوا له عُقبى په همدغې دنيا کې هم ښېګڼه ور په برخه کيږي، اعم له دې نه چې ظاهري وي که باطني.

وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿١٠﴾

او ځمکه د الله ارته ده، بېشکه همدا خبره ده پوره ورکاوه شي صابرانو ته اجر ثواب د دوی بې حسابه (ډېر زیات).

تفسیر: یعنې که پـه یـوه ملک کـې خلق له نېکۍ او ښېګڼې څخه ممانعت کوي؛ نو د الله تعالی ځمکه ارته او پراخه ده، بل ملک ته لاړ شئ څو هلته په آزادۍ او خپلواکۍ سره د الله تعالی احکام په ځای راوړئ، بېشکه په دې صورت کې به د ترک الوطن له سببه تاسې په ډېرو مصائبو اخته او مبتلا کېږئ، او په راز راز خلاف العادت او خلاف الطبیعت امورو باندې په صبر او تحمّل کولو اړ او مجبوریږئ، لیکن دا مو په یاد وي چې د هغه په مقابل کې به ډېر ثواب هم دررسیږي، چې د دغه اجر او ثواب په برابر کې چې داسې مهاجرینو ته ورکول کیږي؛ دغه ګردې سختۍ او تکالیف هیڅ شی دي.

قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ ﴿١١﴾ وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُونَ أَوَّلَ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٢﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) بېشکه زه چې یم امر حکم کړی شوی دی ماته د دې چې عبادت کوم یواځې د الله چې خالص کوونکی یم ده (ته) دین (بندګۍ خپلې). او امر حکم کړی شوی دی ماته چې شم زه اول د مسلمانانو (د دې امّت).

تفسیر: لکه چې ته په عالم الشهادت کې د دې امّت په لحاظ د الله تعالی له ټولو ځنې ړومبنی حکم منونکی او مطیع بنده یې، صلی الله علیه وسلم.

قُلْ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣﴾

ووایه (ای محمده !) بېشکه زه ویرېږم که چېرې نافرماني وکړم د رب خپل له عذابه د ورځې لویې (د قیامت).

تفسیر: یعنې ځما په شان یو معصوم او مقرّب بنده هم که په فرض محال سره نافرماني وکړي؛ نو په دغه ورځ کې له عذاب څخه نشي مأمون او مصئون کېدی، نو د نورو څه پوښتنه کوئ؟.

قُلِ اللَّهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَهُ دِينِي ﴿١٤﴾ فَاعْبُدُوا مَا شِئْتُمْ مِنْ دُونِهِ

ووایه (ای محمده !) الله ته عبادت کوم په دې حال کې چې خالص کوونکی یم ده ته (د) دین خپل (له شرکه). پس عبادت کوئ تاسې د هر هغه څیز چې اراده یې وکړئ تاسې غیر له الله.

تفسیر: یعنې زه خو د الله تعالی له حکم سره موافق په نهایت اخلاص او صمیمیت سره د هغه واحد احد الله تعالی عبادت کوم، تاسې مختار یئ چې د هر چا چې عبادت کوئ، او هر چاته چې مو زړه غواړي سرونه ښکته کړئ، هو ! دغومره فکر او دقّت وکړئ ! او له غور څخه کار واخلئ ! چې ستاسې آخره خاتمه او انجام به څرنګه کیږي؟ چې په دې سره مقصد دوی ته توبیخ او رټنه ده.

قُلْ إِنَّ الْخَاسِرِينَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ ﴿١٥﴾

ووایه (ای محمده !) بېشکه زیان کاران هغه کسان دي چې زیان یې رسولی دی ځانونو خپلو ته، او اهل خپل ته په ورځ د قیامت کې، واورئ خبردار شئ ! چې دغه (خسران) همدغه دی زیان ښکاره.

تفسیر: یعنې مشرکین نه خپلو ځانونو ته د الله تعالی له عذابه نجات ورکولی شي، او نه خپلې مورنۍ او خپلخانۍ ته څه فائده او نجات ښښلی شي، او ګرد د جهنّم د شغلو ځنې جارولی (قربانولی) شي، له دې به زیاته نوره څه خساره وي؟.

لَهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ

وي به دوی ته له پاسه د دوی طبقات له اوره، او له لاندې د دوی طبقات (د اور).

تفسیر: یعنې له هر طرفه به یې اور محیطوي، لکه چې ورېځ یا بخار له کوم شي څخه راتاویږي.

ذَٰلِكَ يُخَوِّفُ اللَّهُ بِهِ عِبَادَهُ ۚ يَا عِبَادِ فَاتَّقُونِ ﴿١٦﴾

دغه (مذکور عذاب) ویروي الله په هغه سره بندګان (مؤمنان خپل)، ای بندګانو ځما ! پس وویرېږئ له ما (په اجتناب د معاصیو).

تفسیر: یعنې ای بندګانو ځما ! وپوهېږئ چې دغه شی د ویرېدلو وړ او قابل دی که نه؟ که د ویرېدلو وړ او قابل وي؛ نو د الله تعالی له غضب او قهر څخه تل ښایي چې وویرېږو !.

وَالَّذِينَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوتَ أَن يَعْبُدُوهَا وَأَنَابُوا إِلَى اللَّهِ لَهُمُ الْبُشْرَىٰ ۚ

او هغه کسان چې ځان یې ساتلی دی له بُتانو داسې چې عبادت وکړي د هغوی، او رجوع یې کړي وي طرف د الله ته شته دوی ته بشارت زېږی.

تفسیر: یعنې هغو کسانو چې د شیطانانو خبرو ته یې له سره غوږ نه دی ایښی، او له ګردو شرکاوو ځنې یې مخ اړولی دی، او خاص الله تعالی ته یې خپل مخ ګرځولی دی؛ د هغوی لپاره ډېر لوی بشارت او زېږی دی.

فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴿١٧﴾ الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ ۚ

پس زېږی وکړه (ای محمده !) پر بندګانو ځما. هغو چې اوري خبره (د قرآن)، پس متابعت کوي دوی ډېر ښه د هغه.

تفسیر: یعنې ګردې (ټولې) خبرې اوري، بیا د هغو له منځه پر همغه خبره عمل کوي چې ډېره ښه وي، یا یې دا مطلب چې د الله تعالی خبرې اوري او پر هغو هدایاتو یې چې له اعلاوو ځنې اعلا وي؛ عمل کوي، مثلاً که یوه خبره د رخصت او اباحت په نسبت واوري، او بله د عزیمت؛ نو د عزیمت په لوري منډې وهي، او ځان هم هغه لوري ته رسوي، او خامخا د ترخیصاتو تتبع نه کوي، یا یې داسې ترجمه وکړئ: چې د الله تعالی کلام اوري، او د هغه د ډېرو ښو خبرو اتباع کوي، ځکه چې د ده ګردې خبرې أحسن في الأحسن دي، کذا قال المفسرون، شاه صاحب (رحمه الله تعالی) د دې مطلب په یو بل ډول سره بیان فرمایلی دی: «دومئ د هغه پر نېک باندې ! یعنې د هغه پر نېکو احکامو دومئ چې پرې تعمیل وکړئ، او پر منع باندې غوږ ږدئ چې نه ور نژدې کېږئ، چې د هغه کول ښه کار دی، او د دغه نه کول ښه کار دی».

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمْ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿١٨﴾

دا هغه کسان دي چې سمه لاره ښوولې ده دوی ته الله، او دغه کسان همدوی دي خاوندان د خالصو عقلونو.

تفسیر: یعنې د بري او کامیابی لاره هم دوی موندلې ده، ځکه چې هغوی له خپل عقل او پوهې څخه کار اخیستی دی، او د خالص توحید او د انابت الی الله لاره یې غوره کړې ده.

أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ ۚ أَفَأَنْتَ تُنْقِذُ مَنْ فِي النَّارِ ﴿١٩﴾

آیا هغه څوک چې واجب شوي وي په ده حکم د عذاب، آیا پس خلاصولی شې ته هغه څوک چې په اور کې وي؟ (بلکه نه یې شې خلاصولې).

تفسیر: یعنې پر هغو باندې چې د دوی د ضد او عناد او بدو اعمالو له سببه د عذاب حکم ثابت او مسلّم شوی دی؛ کوم یو سړی یې له اوره د باندې ایستلی شي؟ او سمه لاره ورښوولی شي؟، ښه نو دغسې کمبختان چې د خپل ازلي شقاوت له سببه په اور کې لویدلي دي، څرنګه د نجات وړ کېدی شي؟ او څوک یې له اوره ایستلی شي؟ او په سمه صافه لاره یې بیولی شي؟.

لَٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ مِنْ فَوْقِهَا غُرَفٌ مَبْنِيَّةٌ ۖ

لیکن هغه کسان چې ویریږي له رب خپله شته دوی ته مانې (په جنت کې) چې له پاسه د هغې نورې مانې بناء کړی شوي دي.

تفسیر: دغه د جنت د درجاتو په طرف اشاره ده، او دا چې هغه ګرد آماده او تیار دی، نه داسې چې د قیامت په ورځ به تیاریږي.

تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ وَعْدَ اللَّهِ ۖ لَا يُخْلِفُ اللَّهُ الْمِيعَادَ ﴿٢٠﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَلَكَهُ يَنَابِيعَ فِي الْأَرْضِ

چې بهیږي لاندې د مانیو (او ونو د هغې څلور قسمه) ویالې، (وعده کړې ده) وعده کول د الله، نه کوي مخالفت الله له وعدې خپلې. آیا نه وینې ته بېشکه الله نازلې کړي دي له (طرفه) د اسمانه اوبه، پس ننه ایستلي یې دي دا (اوبه) په چینو په ځمکه کې.

تفسیر: یعنې د وریا او باران اوبه د غرونو او د ځمکو په مساماتو کې جذب او بیا د چینو په حیث له ځمکې څخه راخوتیږي.

ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهُ

بیا راوباسي په دغو (اوبو) سره کښت (فصل) حال دا چې مختلف وي رنګونه د هغه.

تفسیر: یعنې شین، زېړ، سپین، سور او داسې نور، یا د مختلفو اقسامو کښتونه راوباسي: مثلاً غنم، جوار، شولې وغیر ذلک.

ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهُ حُطَامًا ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿٢١﴾

بیا وچ شي پس وینې ته هغه شین رنګی تک زېړ، پس ګرځوي دغه کښت رژېدلی مات شوی، بېشکه په دغو (اوبو او وښو) کې خامخا ډېر لوی پند دی خاوندانو د خالصو عقلونو ته.

تفسير: يعنې عقلمن سړی د کښت (فصل) حال ته ګوري او ترې نصيحت حاصلوي، څرنګه چې د هغه رونق او شينوالی د څو ورځو له مخې وي او بيا وچ کلک او مات او بوس بوس کولی شي، د دنيا د دغه عيش او نشاط او باغ او بهار حال همداسې دی، ښايي چې انسان د دغې دنيا پر عارضي بهار مغرور او مفتون او د آخرت له انجام څخه غافل او بې پروا نشي.

يو داسې وخت راتلونکی دی چې دغه کښت (فصل) به ورېبل شي، او ښه ميده او بوس بوس به کيږي، بيا به له هغه څخه هر يو جزء د هغه مناسب ځای ته ورسول شي، نيکي او راحت به خپل مرکز او مستقر ته رسول کيږي، او بدي او تکليف خپلې خزانې ته رسيږي، الغرض د کښتونو (فصلونو) د مختلفو احوالو له ليدلو ځنې عقلمن ډېر مفيد سبق حاصلولی شي.

أَفَمَن شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِّن رَّبِّهِ ۚ فَوَيْلٌ لِّلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكْرِ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٢٢﴾

آيا پس هر هغه څوک چې پرانستلی او ارته کړي وي الله سينه د ده (قبول د) اسلام ته، پس وي به دی په رڼا (د هدايت) له (طرفه) د رب خپل، پس افسوس هلاک خرابي ده هغو کسانو ته چې سخت وي زړونه د دوی له ذکره د الله، دغه کسان په ګمراهي ښکاره کې دي.

تفسير: يعنې دواړه سره کله برابر کېدی شي، يو هغه چې الله تعالی د هغه سينه او ټهر د اسلام د قبول لپاره پرانستلې ده، دې نه د اسلام په حقانيت کې څه شک او شبهه لري، او نه د اسلامي احکامو له تسليم څخه خپل څه انقباض ښکاره کوي، الله تعالی ده ته د توفيق او بصيرت يوه عجيبه رڼا او انوار ورعطاء کړي دي چې د هغو په رڼا کې په نهايت سکون او اطمينان سره د الله تعالی پر لاره په منډو ځغلي، بل هغه بدبخت دی چې د ده زړه د تيږې په شان سخت دی، هيڅ يو نصيحت پرې اثر نه کوي، او نه د خير کوم څاڅکی په کې ننوتلی شي، هيڅکله د الله تعالی د يادولو توفيق نه مومي، او همداسې خوشې چتې د اوهامو او اهواوو او رسومو او د آباوو د تقليد په تيارو کې حيران او سرګردان ګرځي.

اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا

الله ټوټه ټوټه نازل کړی دی ډېر ښايسته خوږ کلام کتاب.

تفسير: يعنې په دنيا کې هيڅ يو خبره د دې کتاب له خبرو څخه ښه او بهتره نه ده.

مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ

(او دغه پاک کتاب ډېر ښايسته خوږ کلام) مشابه يو له بل مکّرر غبرګ (دی).

تفسير: يعنې داسې صحيح، صادق، مضبوط، نافع، معقول، فصيح او بليغ دی چې په هيڅ يوه آيت کې يې هيڅ صوري او معنوي نقص نه ليده کيږي، يو له بل سره موافق مطابق او مشابه دی، په مضامينو کې يې هيڅ يو اختلاف او تعارض نشته، بلکه د اکثرو آيتونو مضامين داسې متشابه سره واقع شوي دي چې د يوه آيت د راجع کولو څخه بل آيت ته د هغه صحيح معنی او تفسير معلوميږي، «القرآن يفسّر بعضُه بعضا»، او د «مثاني» يعنې غبرګ مکرر مطلب دا دی چې ډېر احکام، مواعظ، قصص او نور په مختلفو عناوينو او اسلوبو سره بيان شوي دي، څو په ښه ډول سره په ياد او په زړه کې ځای ونيسي، په تلاوت کې هم څو څو ځلي آيتونه مکرّريږي، او ځينو علماوو د «متشابه» او د «مثاني» څخه داسې مطلب اخيستی دی چې په ځينو آيتونو کې د يوه قسم مضمون سلسله تر لرې ځای پورې اوږديږي او هغه متشابه دی،

او په ځینو ځایونو کې د یوه نوعیت مضمون سره په بله جمله کې د هغه د مقابل نوعیت مضمون بیان کاوه شي، مثلاً ﴿إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ * وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ﴾ یا ﴿نَبِّئْ عِبَادِي أَنِّي أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ * وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيمُ﴾ یا ﴿وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسَهُ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ﴾ دغسې آیتونو ته «مثاني» ویل کیږي چې په دغو کې دوه مختلف قسمونه مضامین بیان شوي دي.

تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ

چې لږځیږي رپیږي ځیک کیږي له ده پوستکي د هغو کسانو چې ویریږي له رب خپل، بیا پاسته (آرام نیسي) پوستکي د دوی او زړونه د دوی طرف د یادولو د الله ته.

تفسیر: یعنې د کتاب الله له اورېدلو څخه د الله تعالی خوف او د ده د کلام له عظمته د ده زړه مرتعش او لږځیږي، او ویښتان یې شک پک (نښ) دریږي، او پوستکي یې پاسته کیږي، مطلب دا چې د خوف او رعب کیفیت پر دوی طاري کیږي، او د دوی قلب او قالب، ظاهر او باطن د الله تعالی له یاده متمایل او راتیټیږي، او د الله تعالی یاد د دوی پر روح او بدن پر دواړو یو خاص اثر پیدا کوي.

ذَٰلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴿٢٣﴾

دغه (قرآن) هدایت دی د الله، سمه لاره ښیي په دغه (قرآن) سره هر هغه چا ته چې اراده وفرمایي، او هر څوک چې بې لارې یې کړي الله؛ پس پیدا به نشي هغه ته هیڅوک لاره ښوونکی.

تفسیر: یعنې د هر چا لپاره چې د الله تعالی حکمت مقتضي وي؛ داسې د بري او کامیابۍ لارې ورخلاصوي، او په دغه شان سره د مقصود د منزل پر طرف درومي، او هر هغه چاته چې الله تعالی د ده د سوء استعداد له وجې د هدایت توفیق ورنه کړي؛ نو بل څوک به له هغه سره څه مرستې وکړي، او څنګه به یې لاس ونیسي؟.

أَفَمَنْ يَتَّقِي بِوَجْهِهِ سُوءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَقِيلَ لِلظَّالِمِينَ ذُوقُوا مَا كُنْتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٢٤﴾

آیا پس هغه څوک چې ځان ساتي په مخ خپل سره له سختۍ د عذاب د ورځې د قیامت (په شان د هغه مأمون دی؟ بلکه نه دی)، او وبه ویلی شي ظالمانو ته چې وڅکئ (خوند) د هغه عمل چې وئ تاسې چې کوه به مو (په دنیا کې چې د انبیاوو تکذیب وو).

تفسیر: د انسانانو قاعده ده کله چې د مخامخ له لوري پرې څوک حمله او یرغل راوړي؛ نو په لاسونه سره د هغه مخه نیسي، لیکن په محشر کې به د ظالمانو لاسونه بند وي، څو د عذاب څېړې برابرې د دوی پر مخ ولګیږي، نو آیا داسې یو انسان چې د داسې سخت ګزار مخه پخپل مخ سره ونیسي، او ورته وویل شي چې اوس د هغو کارونو مزه وڅکه چې په دنیا کې دې کړي وو؛ د هغه مؤمن په شان کېدی شي چې هغه تـه به په آخرت کې د هیڅ یو قسم تکلیف او زحمت رسېدلو فکر او اندېښنه نه وي، او د الله تعالی په فضل او مرحمت سره به بیخي مطمئنه او بېفکره اوسیږي؟ له سره یو نه دي !.

كَذَّبَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٥﴾ فَأَذَاقَهُمُ اللَّهُ الْخِزْيَ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾

(همداسې) دروغجن شمیرلي وو (خپل انبیاء) هغو کسانو چې پخوا له دوی نه وو، پس رابه غی دوی ته عذاب له داسې طرفه چې نه به پوهېدل. پس وبه څکوله په دی الله خواري او رسوایي په

دغه ژوندون لږ خسیس کې، او خامخا عذاب د آخرت ډېر لوی دی که چېرې وی دوی په دې عالمان (نو ایمان به یې راوړی وو).

تفسیر: یعنې ډېر اقوام د انبیاوو د تکذیب په سبب هلاک او رسوا کړی شوي دي، او د آخرت اشد عذاب لا د هغوی لپاره همغسې پوره پاتې دی، نو آیا دغه موجوده مکذبین ډاډه او مطمئن دي چې له هغوی سره به دغسې معامله نه کیږي، هو ! که دوی د پوهې او فکر او غور خاوندان وی؛ نو په دغه مورد کې به یې فکر او غور کوو.

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾ قُرْآنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٢٨﴾

او خامخا په تحقیق بیان کړی دی مونږ خلقو ته په دغه قرآن کې له هر مثله (چې په دیني امورو کې پکاریږي) لپاره د دې چې دوی (پرې) پند واخلي. په دې حال کې چې دا قرآن دی لوستلی شوی په عربي ژبې سره چې نه دی خاوند د کوږالي، لپاره د دې چې دوی وساتلی شي (له معاصیو او کفره).

تفسیر: دغه د دوی نه پوهېدل د دوی له غفلته او حماقته دي، پاک قرآن خو هره یوه خبره په مثالونو او دلیلونو سره پوهوي، څو خلق په هغه کې غور او دقّت وکړي، او په هغه سره خپل عاقبت اصلاح کړي، قرآن په یوه صافه عربي ژبې رالېږلی شوی کتاب دی، چې د ده د ړومبنیو مخاطبینو مورنۍ ژبه ده، په دغه قرآن کې هیڅ یوه کږه او ناموافقه خبره نشته، او ډېرې ښې صافې سمې خبرې په کې شته، چې سلیم عقل یې په ډېر ښه شان سره قبلوي، هیڅ قسم اختلال او کوږوالی د ده په مضامینو او عباراتو کې نشته.

ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيهِ شُرَكَاءُ مُتَشَاكِسُونَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا

(بیانوي) الله یو مثل چې یو سړی وي (مریي) چې وي په ده کې (ډېر) شریکان ټول بدخویه سره ناسازه، او یو بل سړی وي (هغه هم مریي خو) سلامت ټول د یوه سړي وي، آیا برابر دي سره دغه دواړه مثلونه (د مریو؟ بلکه نه دي سره برابر، همداسې دی حال د کافر او د مؤمن).

تفسیر: یعنې که څو تنه حصه لرونکي په یوه مریي یا نوکر کې شریک وي، او له دغو څخه هر یو حصه لرونکی ضدّي او عنادي واقع شوی وي، او له دوی څنې هر یو هم دغه غواړي چې هغه مریي یا نوکر یواځې د همده خدمت او کار وکړي، او نور شرکاء ورسره څه اړه او علاقه ونه لري، نو ښکاره خبره ده چې په دغه فکر کې دغه خدمتګار سخت وارخطا او پرېشان کیږي، په خلاف د دې هغه مریي او نوکر چې یواځې یوه سره وي، نو هغه ته به یو شان یو جانبه طمانیت حاصل وي، او د څو تنو بادارانو د خوښۍ ساتلو فکر او د دې خوا او هغې خوا ځغلولو اند ښښنه به ورسره نه وي، اوس ښکاره خبره ده چې دغه دواړه مریان بیخي نشي سره برابرېدلی، همداسې وګڼئ مشرک او موحّد، د مشرک زړه په څو جانبه ویشلی شوی وي، او د څو تنو باطلو معبودانو د خوښۍ ساتلو په فکر کې مشغول وي، پر خلاف د دې موحّد خپل ګرد توجهات، خیالات، ارتباطات او تعلّقات د واحد الله په طرف مصروفوي، او د ده مرجع او مرکز د تل لپاره د همغه پاک الله دربار دی، موحد په پوره اطمینان او ټول زړه سره د الله تعالی د رضا او خوښۍ په فکر کې مشغولیږي، او پوهیږي چې وروسته د پاک الله له خوښۍ څخه د بل چا خوښۍ او خوشالی ته چندانې اړ (محتاج) نه یم.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٩﴾

ټوله ثناء صفت خاص الله ته دی، بلکه زیاتره د خلقو نه پوهیږي (په نفع او ضرر خپل).

تفسیر: یعنې ګرد محاسن او محامد هغه پاک الله ته دي چې په داسې اعلی مطالبو او حقایقو سره مو په داسې صاف او په زړه پورې مثالونو او شواهدو پوهوي، مګر سره له دې ډېر داسې بد نصیبه کسان دي چې د دغو واضحو مثالونو په پوهېدلو توفیق نه مومي.

اِنَّكَ مَيِّتٌ وَّاِنَّهُمْ مَّيِّتُوْنَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُوْنَ ﴿٣١﴾

بېشکه چې ته هم مړ کېدونکی یې، او بېشکه دوی هم مړ کېدونکي دي. بیا بېشکه تاسې په ورځ د قیامت کې په نزد د رب خپل جګړه به کوئ (په دیني امورو کې).

تفسیر: یعنې د دغه اختلاف اثر چې د مشرک او موحّد په منځ کې دی د قیامت په ورځ کې علی رؤوس الأشهاد ظاهریږي، څه مهال چې نبیان به سره له خپلو امتیانو یو ځای کړل شي، او کافران به د انبیاوو او مؤمنینو په مقابل کې جګړې او مناقشې وکړي، او حجّتونه او دلائل به راوړاندې کړي، شاه صاحب (رحمه الله) لیکي: «کفّار به منکریږي چې له سره مونږ ته ستا حکم نه دی رارسېدلی، بیا د دوی د دغه انکار په مقابل کې د پرښتو او د ځمکې او د اسمان او د دوی د لاسونو او پښو او نورو اعضاوو په شهادت به پرې ثابتیږي»؛ چې دوی پخپلو دغو ادعاوو کې دروغجنان دي، همداسې د نورو ګردو جګړو فیصلې به هم په هغه ورځ کې د پاک الله په حضور کې صادریږي، بهتر همدا دی چې د «اختصام» لفظ عام کېښود شي، څو د احادیثو او آثارو څخه مخالف نشي.

په دې آیت شریف کې ښکاره دلیل دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شوی دی، او د دنیا د ژوند سره یې علاقه پرې شوې ده، هو ! د انبیاوو علیهم السلام او د شهداوو په اړه چې د ژوند کوم نصوص راغلي دي، مراد ورڅخه برزخي ژوندون دی، لکه چې د شهداوو په اړه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿بَلْ اَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ﴾.

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ اِذْ جَآءَهٗ ؕ اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿٣٢﴾

پس څوک دی ډېر ظالم؟ (بلکه نشته) له هغه چا چې دروغ تړي پر الله (په لرلو د شریک، ځوی، ښځې)، او دروغ شمیري رښتیا خبره (قرآن) کله چې راشي (دغه قرآن) دغه (مکذّب ته، آیا نشته په دوزخ کې ځای لپاره د کافرانو؟ (بلکه شته).

تفسیر: پر الله تعالی باندې یې دروغ وویل، یعنې شریک یې ورته ودراوه، یا یې اولاد ور تجویز کړ، یا یې داسې صفات ورمنسوب کړل چې په واقع کې د ده د ذات او صفاتو سره وړ اولایق نه وي، او رښتیا خبره کله چې ورته ورسېده؛ دروغ یې وشمېرله، یعنې هغه رښتیا خبرې چې انبیاوو علیهم السلام د الله تعالی له طرفه راوړلې؛ هغوی ته یې د دروغو نسبت وکړ، او هیڅ یې په کې خپل فکر او غور ونه چلاوه، بلا شُبهه هغه څوک چې له حق او حقانیت سره دومره عداوت او دښمني لري، له هغه ځنې ډېر لوی ظالم بل څوک کېدی شي، او د داسې ظالمانو د ورتلو او هستوګنې ځای ماسوا له دوزخه بل به چېرې وي؟.

وَالَّذِيْ جَآءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿٣٣﴾

او هغه (محمد) چې راغی په (خبرې) رښتیا سره، او هغه (مؤمنان) چې رښتیا یې وشمېرله دا (خبره)؛ دغه کسان همدوی دي پرهېزګاران (له معاصیو او له شرکه).

تفسیر: یعنې الله تعالی د ویریدونکیو شان داسې وي چې تل رښتیا ووایي، او د رښتیا تصدیق وکړي.

لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۭ ذٰلِكَ جَزٰۗؤُا الْمُحْسِنِيْنَ ۝ لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَسْوَاَ الَّذِيْ عَمِلُوْا وَيَجْزِيَهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝

شته دوی ته (په جنّت کې) هر هغه (نعمت) چې غواړي یې په نزد د رب د دوی، دغه (مذکور کرامت) جزا ده د محسنانو نیکوکارانو. لپاره د دې چې ورژوي الله له دوی نه بدتر د هغو ګناهونو چې کړي یې وي، او چې جزا ورکړي (الله) دوی ته اجر د دوی په سبب د هغه ډېر ښه عمل چې وو دوی چې کوو به یې (په دنیا کې).

تفسیر: یعنې الله تعالی متقینو او محسنینو ته د دوی د ډېرو ښو کارونو اجر او بدل ورکوي، که په غلطه کوم بد عمل تري صادر شوی وي؛ هغه وربښي.

اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ۭ وَيُخَوِّفُوْنَكَ بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ۭ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ۝ وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّضِلٍّ ۭ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِعَزِيْزٍ ذِي انْتِقَامٍ ۝

آیا نه دی الله کافي بس کېدونکی د بنده خپل (بلکه کافي دی)، او ویروي (کفّار ای محمده !) تا په هغو بُتانو (چې عبادت یې کوي کفّار) بې له الله، او هر څوک چې ګمراه یې کړي الله؛ پس پیدا به نه شي دې (ګمراه) ته هیڅوک سمه لاره ښوونکی. او هر چاته چې سمه لاره وښیي الله؛ پس نشته ده ته هیڅوک ګمراه کوونکی، آیا نه دی الله ډېر زبردست غالب قوي څښتن (خاوند) د بدل اخیستلو؟ (بلکه دی).

تفسیر: مشرکینو ځمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم له بُتانو ویراوه، او ویل به یې: «ګورئ تاسې ځمونږ د معبودانو تحقیر او توهین مه کوئ !، او دوی پر خپل ځان مه خپه او مه قهرجنوئ !، نه چې دوی (معاذ الله) له تا څخه بالکل روغ لېونی او تیار پاڼکل جوړ کړي»، نو دلته د هغه ځواب ورکوي: «هر هغه چې د لوی زبردست الله بندګي ځانته غوره کړي وي؛ نو دی به کله له دغو عاجزانو او ناتوانانو باطلو معبودانو څخه ویریږي، آیا د هغه عزیز منتقم الله تعالی امداد او اعانت ده لره بس او کافي نه دی، چې له بل چا څخه وویریږي؟ یا ورته څه هیله امید ولري؟ دغه هم د دغو مشرکینو ګمراهي ده، چې د واحد الله بندګان له هسې چتي شیانو څخه ویروي، رښتیا خبره خو هم دا ده چې پر سمه صافه لاره روانول او نه روانول دغه ګرد د الله تعالی په قبضه او اختیار کې دي.

وَلَىِٕنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۭ قُلْ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَنِيَ اللّٰهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كٰشِفٰتُ ضُرِّهٖٓ اَوْ اَرَادَنِيْ بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكٰتُ رَحْمَتِهٖ ۭ قُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ۭ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ۝

او خامخا که وپوښتې ته (ای محمده !) له دغو (مشرکانو) چې چا پیدا کړي دا اسمانونه او ځمکې؛ نو خامخا وبه وایي چې الله (پیدا کړي دي)، ووایه (ای محمده ! دوی ته) آیا پس نه وینئ تاسې هغه بُتان چې بولئ (عبادت یې کوئ)

تاسې بې له الله، که چېرې اراده وفرمايي ماته الله د ضرر رسولو؛ آيا دي دا بُتان لرې کوونکي د ضرر د هغه (له مانه؟ بلکه نه دي !)، يا که اراده وفرمايي (الله) ماته د رحمت (د نفعې رسولو)؛ آيا دي دغه (بُتان) منع کوونکي د رحمت د الله (له مانه؟ بلکه نه دي !)، ووايه (ای محمده ! دوی ته) بس دی ځما الله، خاص په هم دغه الله توکل کوي توکل کوونکي (په هر حال او هر کار کې، او خپل ټول امور هم هغه ته ورسپاري).

تفسير: يعنې يو طرف خو قدوس الله تعالى چې پخپله تاسې د اقرار سره موافق د ټولو اسمانونو او ځمکې خالق او مالک دی، او بل طرف دغه د تيرو او بې سا بُتان يا عاجز مخلوقات چې که هغوی ګرد سره يو ځای هم شي؛ د الله تعالى د رالېږلي شوي يو ادنى زحمت يا راحت مخه نشي نيولى، او نه يې نوعيت بدلولى شي، نو تاسې پخپله دغه خبره راوښيئ چې له دغو دواړو څخه کوم يو د اطمينان او اعتماد وړ (مستحق) او لايق کېدی شي؟ او کوم يو د خپل مدد لپاره کافي او بس وګڼلى شي؟ د هود عليه السلام قوم هم ويلي وو: ﴿إِنْ نَّقُولُ إِلَّا اعْتَرَاكَ بَعْضُ آلِهَتِنَا بِسُوءٍ﴾ چې د هغه ځواب هود عليه السلام داسې ورکړی وو: ﴿قَالَ إِنِّي أُشْهِدُ اللَّهَ وَاشْهَدُوا أَنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ * مِن دُونِهِ فَكِيدُونِي جَمِيعًا ثُمَّ لَا تُنظِرُونِ * إِنِّي تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُم مَّا مِن دَابَّةٍ إِلَّا هُوَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا إِنَّ رَبِّي عَلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ (١٢ جزء، د هود سورت (٥) رکوع، ٥٤، ٥٥، ٥٦ آيتونه)، او ابراهيم عليه السلام هم خپل قوم ته داسې فرمايلي وو: ﴿وَلَا أَخَافُ مَا تُشْرِكُونَ بِهِ إِلَّا أَن يَشَاءَ رَبِّي شَيْئًا ۗ وَسِعَ رَبِّي كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ۗ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ * وَكَيْفَ أَخَافُ مَا أَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمْ أَشْرَكْتُم بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا ۚ فَأَيُّ الْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِالْأَمْنِ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ (٧ جزء، د الأنعام سورت (٩) رکوع، (٨٠ - ٨١) آيتونه).

قُلْ يَا قَوْمِ اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٤٠﴾

ووايه (ای محمده !) ای قومه ځما ! ژوند کوئ تاسې په ځای (او حال) خپل کې، بېشکه زه هم عمل کوونکی يم (په حال د توکّل او صبر خپل)، پس ژر ده چې معلوم به کړئ تاسې (ځما او له تاسو نه) هر هغه چې رابښي هغه ته داسې عذاب چې وبه شرموي دی، او نازل به شي په ده عذاب همېشه.

تفسير: يعنې عنقريب دغه خبره واضحه او څرګندېږي چې د واحد الله بندګان غالبان کېږي، که د دغو سلهاوو دروازو فقيران؟ واقعات به ډېر ژر دا راوښيي چې هر هغه بنده چې د الله تعالى په حمايت او پنا کې راغلى دی؛ د هغه مقابله کوونکي بالآخر ګرد سره خوار زار او تباه کېږي.

تنبيه: له ﴿عَذَابٌ يُخْزِيهِ﴾ څخه دنيوي عذاب، او له ﴿عَذَابٌ مُّقِيمٌ﴾ څخه اخروي عذاب مراد دی، والله أعلم.

إِنَّا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ ۖ فَمَنِ اهْتَدَىٰ فَلِنَفْسِهِ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۖ وَمَا أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴿٤١﴾

بېشکه مونږ نازل کړی مو دی پر تا کتاب (قرآن) لپاره (د انتفاع د ټولو) خلقو په حقه سره، پس هر چا چې سمه لاره يې ومونډله؛ پس نفس د ده لره ده (فائده يې)، او هر څوک چې ګمراه شو؛ پس بېشکه همدا خبره ده چې ګمراه کېږي پر ځان خپل (چې ضرر يې ګالي، او نه يې ته پر دوی وکيل (ساتونکی).

تفسير: يعنې ستا په ژبه او د دغه کتاب په ذريعه د نصيحت رښتيا خبرې ويلې شوي دي، او د دين سمه صافه برابره لاره ښوولې شوې ده، زيات له دې نه هر انسان دې خپله ګټه او تاوان وسنجوي، هر څوک چې پر نصيحت عمل او تګ

کوي؛ خپل ځانته فائده او ګټه رسوي، که نه خپله آخره خاتمه او انجام خرابوي، پر تا د دوی نور هیڅ مسئولیت او ذمه واري نشته، چې په زور او جبر سره دوی پر سمه لاره راولې، ستا وظیفه تش د الله تعالی د پیغام رسونه ده، چې دغه فریضه تاسې اداء کړې ده، وروسته له دې نه نور ګرد معاملات هغه پاک الله ته وسپارئ چې د ده په لاس کې ژوندي کول، مړه کول، ویده کول او ویښول او نور ګرد شیان دي.

اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا ۚ فَيُمْسِكُ الَّتِيْ قَضٰى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْاُخْرٰٓى اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝۴۲

الله راکاږي (قبضوي) نفسونه په وخت د مرګ د دوی، او هغه نفس چې نه وي مړ (هغه راکاږي) په خوب د هغه کې، پس وساتي (هغه نفس) چې حکم یې کړی پر هغه د مرګ، او بېرته رالیږي (بدن ته) هغه بل (نفس) تر نېټې په نامه کړی شوې پورې، بېشکه په دغه (قبض، امساک، ارسال) کې خامخا ډېر دلائل د قدرت دي لپاره د هغه قوم چې فکر کوي (او عبرت ترې اخلي، لیکن نه کوي فکر په کې کفّار).

تفسیر: شاه صاحب لیکي«یعنې په خوب کې هر ورځ روح اخلي، او بیا یې بېرته ورلیږي، همدغه نښه ده د آخرت، معلوم شو چې په خوب کې هم لکه موت سا اخیسته کیږي، که خوب وځنډیږي؛ نو هم هغه مرګ دی، مګر دغه روح هغه دی چې ورته ظاهري هوش وایي، او هغه روح چې په هغه سره تنفس جریان لري، او نبضین خوځیږي، او خواړه هضمیږي؛ هغه بل دی، چې پخوا د مرګ له وقوع څخه نه ایستل کیږي»، (موضح القرآن).

اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُفَعَاۗءَ ۭ

آیا نیولی دی دغو (مشرکانو) غیر له الله شفاعتګران (بُتان چې زاری وکړي الله ته).

تفسیر: یعنې مشرکین د بُتانو په نسبت داسې دعوی کوي چې دوی د الله تعالی په دربار کې ځمونږ سپارښت او شفاعت کوي، او د همدوی له سپارښت څخه ځمونږ ګرد کارونه هلته جوړیږي، نو ځکه مونږ د دوی عبادت کوو، حال دا چې اول د شفیع کېدلو لپاره معبودیت لازمي نه دی، بل شفیع هم هغه څوک ګرځېدی شي چې ورته د الله تعالی له طرفه د شفاعت حکم او اجازه وي، او یواځې د هغو کسانو په حق کې شفاعت په عمل راتلی شي، چې دوی د الله تعالی په نزد غوره او مقبول وي، لنډه یې دا چې د شفیع لپاره اذن او د مشفوع لپاره مرتضائیت یو ضروري امر دی، او دلته دغه دواړه خبرې نشته، نه بُتانو ته اذن ثابت دی او نه د کفّارو مرتضائیت؛ نو د دوی دغه دعوی غلطه شوه.

قُلْ اَوَلَوْ كَانُوْا لَا يَمْلِكُوْنَ شَيْـــًٔا وَّلَا يَعْقِلُوْنَ ۝۴۳

ووایه (ای محمده ! دوی ته) آیا اګر که وي دوی په داسې حال کې چې مالکان نه وي د هیڅ شي، او نه عقل لري (دوی چې ستاسې عبادت ورته معلوم شي ځکه چې جمادات وي).

تفسیر: یعنې بُتان نه اختیار لري او نه پوهه، نو بیا د دوی شفیع کېدل ډېر عجیب دي.

قُلْ لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيْعًا ۭ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝۴۴

ووایه (ای محمده ! دوی ته) خاص الله ته (اختیار د) شفاعت دی ټول (او بل هیچا لره دخل نشته)، خاص الله ته دی سلطنت د اسمانونو او د ځمکې، بیا خاص همده ته بېرته بیول کېږئ (لپاره د جزاء).

تفسير: يعني في الحال هم پر اسمانونو او ځمكه كې د همدغه الله تعالى سلطنت دى، او في المآل هم د ځردو رجوع او بېرته ورتګ هم هغه ته دى، نو بې د الله تعالى له خوښې او رضا هيڅوک د دې خبرې قوّت او قدرت نه لري، چې خپلې شونډې هم وخوځولى شي.

وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ ۖ وَإِذَا ذُكِرَ الَّذِينَ مِن دُونِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٤٥﴾

او په هغه وخت كې چې ياد كړ شي الله يواځې (بې له بُتانو)؛ نو منقبض شي، وترهيږي زړونه د هغو كسانو چې ايمان نه راوړي په آخرت باندې، او په هغه وخت كې چې ياد كړل شي هغه (بُتان) بې له دغه (الله)؛ ناڅاپه دوى خوشاليږي (مخونه يې رانه او وچولي ـ تندي يې خلاص شي له خوښۍ).

تفسير: د مشركانو دغه يوه خاصه ده چې په ځينو اوقاتو كې تش پخپلو ژبو د الله تعالى د عظمت او محبّت اعتراف كوي، ليكن د هغوى زړونه د واحد الله له ذكره او حمد او ثنا ځخه نه خوښيږي، هو ! كه د نورو بُتانو يا وړوكيو معبودانو تعريف ورته وكړى شي؛ نو له ډېر خوښۍ او خوشالى پخپلو جامو كې نه ځاييږي، او د مسرّت آثار د دوى له څېرو ځخه له ورا (لرې) څرګندېږي (ښكاره كيږي)، د افسوس او حسرت ځاى دى چې نن ورځ على الأكثر تش په نامه سره مسلمانانو همداسې يو وضعيت ځانته غوره كړى دى، مثلاً كه د واحد الله قدرت، قوّت، عظمت او د ده د لامحدوده علم وسعت بيان كړ شي؛ نو د دوى په مخونو كې د انقباض آثار احساس كيږي، مګر كه د كوم پير، فقير، حضرت، شيخ، ملنګ، صاحبزاده، خواجه، سيد او د نورو متعارفه وو خوارقو، رښتيا دروغ كرامات او نورې چټې او مهملې خبرې دوى ته وويلى شي؛ نو د دوى په څېرو كې د وجد او نشاط علائم قائميږي، او په زړونو كې يې د سرور او انبساط امواج پيدا كيږي، بلكه ډېر اوقات د خالص توحيد بيانوونكي د دوى په نزد د اولياء الله منكر ګڼل كيږي، «فإلى الله المشتكى وهو المستعان».

قُلِ اللَّهُمَّ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِي مَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٤٦﴾

ووايه (اى محمده !) اى الله !، پيدا كوونكى د اسمانونو او د ځمكې !، اى عالمه خبرداره په پټو او په ښكاره وو !، ته حكم كوې (په قيامت كې) په منځ د بندګانو خپلو كې په هغو (دينيه وو امورو كې) چې وو دوى چې په كې اختلاف به يې كاوه.

تفسير: يعني هر كله چې دوى په داسې غټو خبرو كې هم جګړې كوي، او د الله تعالى دومره عزت او وقار هم د دوى په زړونو كې نشته، نو اوس زه ستا پاك دربار ته عرض او فرياد كوم، څو پخپله د دغو جګړو په منځ كې يوه پربكړه او فيصله وفرمايي.

وَلَوْ أَنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ لَافْتَدَوْا بِهِ مِن سُوءِ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ وَبَدَا لَهُم مِّنَ اللَّهِ مَا لَمْ يَكُونُوا يَحْتَسِبُونَ ﴿٤٧﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا كَسَبُوا وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٤٨﴾

او كه چېرې بېشكه په اختيار كې شي د هغو چې ظلم يې (پر نفسونو خپلو په كفر سره اختيار) كړى دى هغه (اموال مبالغ) چې په ځمكه كې دي ټول، او په مثل (هم د هغه) نور ورسره شي؛

نو خامخا فديه به ورکړي دوی په هغه سره له بدرنګه عذابه په ورځ د قيامت کې، او ښکاره به شي دوی ته له جانبه د الله هغه (عذاب) چې نه وو دوی چې ګمان به يې کاوه (د هغه). او ښکاره به شي دوی ته (سزا او عقوبت) د هغو اعمالو چې کړي وو دوی، او چاپېره نازله به شي په دوی (جزاء د) هغه څيز چې وو دوی چې په هغه پورې به يې مسخرې کولې (چې الهي قهر او ابدي عذاب دی).

تفسير: يعنې د قيامت په ورځ چې د دغو اختلافاتو فيصلې اورولی کيږي، په دغه وخت کې به د دغو ظالمانو چې په شک او شرک سره يې د الله تعالی شان تنقيص کوو؛ ډېر بد حال وي، فرض يې کړئ که په دغه ورځ د ځمکې د مخ ګردې خزانې بلکه له هغوی څنې زائد مبالغ هم له دوی سره موجود وي، او وغواړي چې دغه ګرد اضعافًا مضاعفه خزائن د خپلې فديې په ډول ورکړي، او خپل ځان خلاص کړي؛ مګر هغه ترې نه قبليږي، او هر څه بد اعمال چې ده کړي دي؛ يو په يو يې په مخ راوړل کيږي، او د داسې راز راز ويروونکيو عذابونو خوند به وځکي چې هيڅکله به د هغه مثال او نظير د ده په وهم او خيال کې هم نه وي ګرځېدلی، الغرض هغه کسان چې پر خالص توحيد او حق دين پورې يې تو کې او مسخرې کولې، د هغه ربړ او وبال يې دوی هرومرو ګالونکي دی، او په هغو عذابونو کې چې دوی ورپورې مسخرې کولې؛ دوی پخپله په کې اخته کېدونکي دي.

فَإِذَا مَسَّ الْإِنسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا

پس کله چې ورسيږي (جنس د) انسان ته څه قسم ضرر؛ نو بولي مونږ (دفع د هغه ته).

تفسير: يعنې چې د هغه الله تعالی له ذکر څخه چې اوس خپه او ناراضه کيږي؛ د مصيبت په وخت کې ورغږ او نارې وهي، او د ده ذکر چې د مصائبو په وخت کې پرې خوښيږي؛ د مرفه الحالي (د خوشحالی او مستئ) په وخت کې له دوی نه هيريږي.

ثُمَّ إِذَا خَوَّلْنَاهُ نِعْمَةً مِّنَّا قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَىٰ عِلْمٍ

بيا کله چې ورکړو مونږ ده ته کوم نعمت له (جانبه) خپله؛ وايي بېشکه همدا خبره ده چې راکړی شوي دی ماته دغه (نعمت) په سبب د پوهې (ځما، نه ده داسې).

تفسير: يعنې قياس خو همدغه غوښت چې دغه نعمت ځما په برخه شي، ځکه چې په ما کې د دغې خبرې لياقت وو، او د هغه د ګټلو ذرائع ماته ښکاره او معلوم وو، او الله تعالی ته ځما استعداد او اهليت څرګند وو، نو بيا به هغه ولې ماته نه رسېده؟ الغرض چې ده پر خپل لياقت او عقل نظر وکړ، او د الله تعالی پر فضل او قدرت يې نظر ونه کړ.

بَلْ هِيَ فِتْنَةٌ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٩﴾

بلکه دغه (عطا د نعمت) فتنه امتحان ازمينه ده، وليکن اکثر د دوی نه پوهيږي (چې دغه تخويل استدراج، امتحان دی دوی ته).

تفسير: يعنې داسې نه ده، بلکه دغه نعمت د الله تعالی له طرفه يو امتحان دی، چې بنده د هغه پر موندلو تر کوم حد پورې د حقيقي منعم شکريه اداء کوي؟ او د احسان او انعام حق يې پېژني؟ که ناشکري يې وکړله؛ نو دغه نعمت ورته نقمت او د ده د ځان وبال ګرځي.

قَدْ قَالَهَا الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَمَا أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٥٠﴾ فَأَصَابَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا كَسَبُوا ۚ وَالَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْ هَٰؤُلَاءِ سَيُصِيبُهُمْ سَيِّئَاتُ مَا كَسَبُوا وَمَا هُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٥١﴾

په تحقيق ويلي ده دغه خبره هغو كسانو (چې تېر شوي دي) پخوا له دوى نه (لكه قارون او قوم د ده)؛ پس هيڅ قدر دفع د عذاب ونه كړه له دوى ځنې هغه (دنيوي مال او متاع) چې وو دوى چې كسب (د ځان چې د هغو) به يې كوو. پس ورسېد هغو (پخوانيو) ته (جزاء د هغو بدو) اعمالو چې كول به دوى (په خسف سره)، او هغه كسان چې ظلم يې كړى دى (په اختيارولو د كفر) له دغه (قوم ستا اى محمده !)؛ ژر ده چې وبه رسيږي دوى ته سزا او عقوبت د هغو اعمالو چې كړي دي دوى، او نه دي دوى عاجز كوونكي (مونږ لره له تعذيب د دوى نه).

تفسير: لكه چې قارون همداسې ويلي وو، د هغه څه حشر او آخره خاتمه شوه؟ د هغه ذكر پخوا له دې نه تېر شو، يعنې څرنګه چې پر پخوانيو مجرمينو د خپلې ځناې سزا او وبال ولوېد؛ پر دغو موجوده وو مشركينو هم د دوى د بدو اعمالو سزا او وبال لوېدونكى دى، څه وخت چې پاك الله تعالى د دوى د سزا وركولو اراده وفرمايي، نو دوى له سره خپل ځانونه نشي پټولى، او نه چېرې تري تښتېدلى شي، او نه په كوم چل او تدبير سره دى سترى، ستومانه، او عاجزولى شي.

أَوَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٢﴾

آيا نه پوهيږي دوى په دې چې بېشكه الله پراخوي رزق روزي هر هغه چا ته چې اراده وفرمايي، او تنګوي (په اندازه كوي يې)، بېشكه په دغه (بسط او قبض) كې خامخا ډېر دلائل دي لپاره (د هغه) قوم چې ايمان راوړي (په الله چې باسط او قابض دى).

تفسير: يعنې په دنيا كې محض د روزي پراخي او تنګي د كوم سړي د مقبوليت او مردوديت دليل نشي كېدى، نه د روزي ځكه دومره په عقل، ذهانت، علم او لياقت پورې منحصر دي، وګورئ چې څومره بېوقوفان او ناپوهان په ډېر اطمينان او هوسايي سره ژوندون كوي، او څومره عاقلان، فاضلان او نېكان په لوږو سره شپې او ورځې تېروي.

قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٥٣﴾

ووايه (اى محمده ! چې فرمايي الله) اى بندګانو (مؤمنانو) ځما هغو كسانو چې اسراف يې كړى دى پر نفسونو خپلو ! مه نااميده كېږئ له رحمته د الله، (ځكه چې) بېشكه الله مغفرت كوي بښي ګناهونه ټول (اګر كه ډېر هم وي بې له شركه)، بېشكه چې الله همدى دى بښه بښونكى (د خطيّاتو) ډېر رحم كوونكى دى.

تفسير: دغه آيت د أرحم الراحمين د بې پايانه رحمت بيان او د ده د عفوې او د عظيم الشأن تېرېدلو اعلان كوي، او د خورا ډېرو سختو مأيوس العلاجو مريضانو په حق كې د شفاء د اكسير حكم لري، مشرك، ملحد، زنديق، مرتد، يهودي، نصراني، مجوسي، مبتدع، فاسق، فاجر او نور عاصيان او باغيان هر څوك چې وي د دغه آيت له اورېدلو څخه وروسته د الله تعالى مهربانۍ ته اميدوار كيږي، ځكه چې د هر چا په نسبت چې الله تعالى اراده وفرمايي؛ د هغه ګناه معافوي، او هيڅوك د ده لاس نشي نيولى، بيا بنده به ولې نااميده كيږي؟ هو ! دغه ضروري ده چې د الله تعالى

له نورو اعلاناتو سره سم چې په هغو کې تصريح شوې ده، چې د کفر او شرک جرم به بې له توبې او بې له ايمانه نه قبلوي، ښايي چې ﴿إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا﴾ له ﴿لِمَنْ يَشَاءُ﴾ سره مقيده وګڼله شي، خو سره له هغه د دغې خبرې تقييد يې هم فرمايلی دی: ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾ (۵ جزء د النساء سورت (۸) رکوع (۱۱۶) آيت)، له دغه تقييد څخه دغه نه لازميږي چې الله تعالی بې له توبې هيڅ يوه لويه يا وړوکي ګناه نشي معافولی، او نه يې داسې مطلب کيږي چې د هيڅ يو جرم لپاره له سره د توبې ضرورت نشته، او بې له توبې به ګرد ګناهونه معافيږي، قيد يواځې د مشيت دی، او د مشيت په متعلق په نورو آيتونو کې دا ښوولي شوي دي چې هغه په کفر او شرک کې بې له توبې ممکن نه دی، لکه چې د دغه آيت شان نزول هم پرې دلالت کوي، او د دې وروستني آيت له افادې څخه هم معلوميږي، نو الغرض الله تعالی ټول ګناهونه کله چې وغواړي بندګانو ته معافوي، خو شرک بغير له توبې نه نه معاف کيږي، نو دا آيت د الله تعالی د پراخه رحمت بيان کوي چې ګناهګار بندګان دې نه نااميده کيږي، که د الله تعالی نه د ګناهونو د معافولو غوښتنه وکړي؛ الله تعالی يې معافوي.

وَأَنِيبُوا إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿۵۴﴾

او بېرته وګرځئ تاسې رب خپل ته (له شرکه او عصيانه)، او غاړه کېږدئ ده ته پخوا له هغه چې راشي تاسې ته عذاب، بيا به مدد درسره نشي کولی (په دفع د عذاب کې).

تفسير: يعنې پخپلو تېرو اغلاطو نادم شئ !، او د الله تعالی د بې پايانه جود اوکرم څخه وشرمېږئ !، او د کفر او عصيان لاره پرېږدئ !، او د هغه کريم رب په طرف رجوع وکړئ !، او خپل ځانونه هغه ته وروسپارئ !، او د ده د احکامو په مقابل کې په نهايت عجز او اخلاص سره غاړه کېږدئ !، او ښه وپوهېږئ چې په حقيقت کې نجات يواځې د ده په فضل او کرم سره ممکن دی، ځمونږ رجوع او انابت هم بې د الله تعالی له فضله او کرمه نشي ميسّر کېدی.

وَاتَّبِعُوا أَحْسَنَ مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ بَغْتَةً وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ﴿۵۵﴾

او متابعت وکړئ د ډېر غوره حکم د هغه (قرآن) چې نازل کړی شوی دی تاسې ته له (جانبه د) رب ستاسې پخوا له هغه چې راشي تاسې ته عذاب يو ناڅاپه، حال دا چې تاسې به نه پوهېږئ (چې له کوم لوري راځي).

تفسير: له ښې خبرې څخه مراد قرآنکريم دی، يعنې پر قرآني هدايتونو عمل وکړئ !، او د عذاب له راتګه پخوا د خپل مستقبل په فکر او انديښنه کې اوسئ !، که نه د عذاب له معاينې څخه وروسته به د هغه هيڅ تدارک او انتظام نشي کېدی، او هيڅ يو تدبير به مؤثر نه لويږي، د الله تعالی عذاب به مو داسې يو ناڅاپه راګېر کړي، چې تاسې به له سره د هغه پر راتګ نه خبر يئ.

أَن تَقُولَ نَفْسٌ يَا حَسْرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِي جَنبِ اللَّهِ وَإِن كُنتُ لَمِنَ السَّاخِرِينَ ﴿۵۶﴾

(چابکي کوئ تاسې په تعميل د قرآن باندې پخوا له هغه) چې ووايي يو نفس: ای ارمان او ندامت مې دی پر هغه چې تقصير مې کړی دی په طرف (په حق د طاعت) د الله کې، او بېشکه چې وم زه خامخا له مسخره کوونکيو څخه.

تفسير: يعنې په هوا اوهوس، رسم، تقليد او دنيوي خوندونو او چرچو کې اخته او مشغول او د الله تعالی له ذکره او ياده بلکه د ده له وجوده بيخي غافلان شوي وو، د ده دين او رسول او د هغه هولناک انجام په نسبت به مو چې

رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ويرولو؛ ملنډې، ټوکې او مسخرې کولې، او د دغو شيانو په حقيقت نه وو پوهيدلي، د ډېر افسوس ځای دی چې د الله تعالى په پېژندلو او د ده د حقوقو په منلو کې مونږ په څه اندازه سره غفلت او قصور کړی دی، چې د هغه په نتيجه کې نن له دغې بدې پېښې سره مخامخ شوي يو، کفّار به دغسې خبرې په محشر کې کوي، که د آيت مضمون کفارو او عصاتو لره عام کېښود شي؛ نو د ﴿وَإِنْ كُنْتُ لَمِنَ السَّاخِرِينَ﴾ معنى به «ما به د مسخره کوونکو غوندې عمل کولو» وي، «علمت عمل ساخر مستهزئ» (كما فسر به ابن كثير رحمه الله).

أَوْ تَقُولَ لَوْ أَنَّ اللَّهَ هَدَانِي لَكُنْتُ مِنَ الْمُتَّقِينَ ﴿٥٧﴾

يا (پخوا له دې نه) چې ووايي: که چېرې داسې وی چې بېشکه الله سمه لاره ښوولې وی ماته؛ نو خامخا وم به زه له متقيانو پرهېزګارانو (له شرکه او له معاصي نه).

تفسير: کله چې په حسرت او افسوس سره کار ونه چلېږي؛ نو د خپل فهم غلطولو لپاره دغه ګوډ عذر وړاندې کوي، څه ووايم؟ الله تعالى ماته هدايت رانه کړ، که الله اراده فرمايلي وی؛ نو نن به زه هم د متقيانو په مرتبه رسېدلی وم، د دغه ځواب وروسته داسې راځي: ﴿بَلَىٰ قَدْ جَاءَتْكَ آيَاتِي﴾.

أَوْ تَقُولَ حِينَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْ أَنَّ لِي كَرَّةً فَأَكُونَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٥٨﴾

يا (پخوا له دې نه) چې ووايي (نفس) په هغه وخت کې چې ووينې عذاب: کاشکې وی ماته بيا بېرته ورتګ (دنيا ته)؛ پس وم به زه هلته له نيکوکارانو (موحدانو هم په عقائدو هم په اعمالو کې).

تفسير: کله چې حسرت او اعتذار دواړه بېکاره ثابت شي؛ او د دوزخ له عذابونو سره مخامخ شي؛ نو په دغه وخت کې به د اضطراب وارخطايي له شدّته داسې وايي: «په هر ممکنه صورت سره چې کېږي، يو ځلي مې بيا دنيا ته ولېږه !، او د توبې او اطاعت فرصت او موقع راکړه !، او ګوره چې زه په څه صلاح او تقوى سره بېرته درحاضر ېږم»، فرمايي الله تعالى چې: ولې مې هدايت نه وو درته کړی بلکه درته کړی مې وو:

بَلَىٰ قَدْ جَاءَتْكَ آيَاتِي فَكَذَّبْتَ بِهَا وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنْتَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿٥٩﴾

هو ! داسې ده چې په تحقيق راغلي وو تاته دلائل (قرآن) ځما، پس تکذيب کړی وو تا په هغو سره، او تکبّر دې کړی وو، او وې ته له کافرانو (نامنونکيو نه).

تفسير: يعنې غلط وايي، آيا الله تعالى درته سمه صافه لاره نه وه درښوولې؟ او خپل انبياء يې سره له معجزو او احکامو نه وو درليږلي؟ مګر د هغوی خبرې دې و نه منلې، او هر هغه شی چې تاته ويلی کېده، هغه مو سره له غروره او تکبر تکذيب کوو، او ستا هم دغه لوېي او تکبر د حق له قبوله مانع ګرځېده، او خبره همدا ده چې الله تعالى ته له ازله دغه خبره معلومه وه چې ته به د ده له آيتونو څخه انحراف او انکار کوې، او په تکبّر او سرکښۍ سره به وړاندې کېږې، ستا د طبيعت او مزاج غوښتنه او اقتضاء همداسې ده چې که زر کرته د دنيا په طرف بېرته وګرځولی شې؛ بيا به پخپلو هم هغو واهيه وو حرکاتو کې مداومت کوې، او له هغه څخه له سره لاس اخيستونکی نه يې: ﴿وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ﴾ (د «الأنعام» سورت (۳) رکوع (۲۸) آيت)، د داسې خلقو په نسبت د الله تعالى داسې عادت نه دی چې دوی بريالیان او کامياب کړي، بلکه خائب او خاسر کوي يې.

وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ تَرَى الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ وُجُوْهُهُمْ مُّسْوَدَّةٌ ۭ اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ ۝٦٠

او په ورځې د قيامت کې به وويني ته هغه کسان چې دروغ يې ترلي دي پر الله پورې (په نسبت د شرک او نورو عيوبو) مخونه د دوی به تور کړی شوي وي، آيا نشته په دوزخ کې ځای لپاره د منکرانو (کافرانو؟ يعنې شته !).

تفسير: کومه خبره چې د الله تعالی له جانبه راځي، او هغې ته د دروغو نسبت وکړل شي؛ هم دغه پر الله تعالی دروغ ترل دي، ځکه چې دروغ شمېرونکي داسې دعوی کوي چې الله تعالی هغه خبره نه ده فرمايلې، حال دا چې په واقع کې به يې فرمايلي وي، نو د دغو دروغو توروالی د قيامت په ورځ د دوی پر څېرو کې څرګندېږي (ښکاره کيږي).

وَيُنَجِّي اللّٰهُ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ ۡ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْۗءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝٦١

او وبه ساتي الله (له دوزخه) هغه کسان چې ځان يې ساتلی وي (له شرکه) په سبب د خلاصي موندلو د دوی، نه به رسيږي دوی ته سختي او نه به دوی غمجن کيږي.

تفسير: يعنې الله تعالی متقيان د دوی د ازلي فوز او فلاح په سبب د بري او کاميابي پر هغه لوړ (اوچت) مقام رسوي، چې هلته به له هر قسمه بديو او شرورو څخه محفوظ او له هر راز (قسم) فکر او غم څخه به آزاد او محفوظ وي.

اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۡ وَّهُوَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ۝٦٢ لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝٦٣

الله پيدا کوونکی د هر څيز دی، او دغه (الله) پر هر څيز وکيل (ساتونکی متصرف) دی. خاص همدغه (الله) لره دي کليګانې (د خزانو) د اسمانونو او د ځمکې، او هغه کسان چې کافران شوي دي په آيتونو د الله، دغه کسان همدوی زيانکاران دي (چې ځای يې ابدي دوزخ دی).

تفسير: يعنې الله تعالی هر شی پيدا کړی دی، او وروسته له پيدايښته د ده د بقاء او تحفظ ذمه واري يې هم پر خپل قدرت اخيستې ده، او د ځمکې او اسمان د ګردو شيانو تصرّف او اقتدار هم ده ته حاصل دی، ځکه چې د ګردو خزانو کنجيانې له ده سره دي، نو له داسې الله څخه مخ اړول او نورو شيانو ته مخ ګرځول فضول او بيکاره خبره ده، ښايي چې انسان د الله تعالی له غضبه وويريږي، او د الله تعالی رحمت او مهرباني ته اميدوار اوسي.

قُلْ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَاْمُرُوْٓنِّيْٓ اَعْبُدُ اَيُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ۝٦٤

آيا پس تاسو امر کوئ ماته چې بې له الله تعالی د بل چا عبادت وکړم ای جاهلانو ناپوهانو !.

تفسير: يعنې انتهايي نادانې، حماقت او جهالت دا دی، چې انسان الله تعالی پريږدي، او د نورو په عبادت کې بوخت شي، او له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه داسې غوښتنه کوي، او ترې طمع کوي چې دی (معاذ الله) د کفر او شرک لاره د دوی له سببه غوره کړي، په ځينو روايتو کې راغلي دي چې مشرکانو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته دعوت ورکړی وو، چې راځه ځمونږ د معبودانو عبادت کوه، نو ځکه دغه پاس آيت د دوی په ځواب کې نازل شو:

وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٦٥﴾ بَلِ اللَّهَ فَاعْبُدْ وَكُن مِّنَ الشَّاكِرِينَ ﴿٦٦﴾

او خامخا په تحقيق وحي کړی شوې ده تاته او (وحي کړې شوې ده) هغو کسانو ته چې ړومبی له تا نه وو (داسې چې قسم دی) که شرک پیدا کړ تا (فرضًا)؛ نو خامخا خراب به شي هرومرو عمل ستا، او خامخا شې به ته هرومرو له زیانکارانو (نو ځان وساته له شرکه !). بلکه (یواځې) د الله عبادت کوه، او اوسه له شکر کوونکیو (په نعمت د توحید او عبادت).

تفسیر: یعنې که له عقلي حیثیته وکتلی شي، د ګردو اشیاوو پیدا کول، باقي پر ښودل، او په هغه کې د هر ډول تصرفاتو جاري لرل یواځې د الله تعالی کار دی، نو د عبادت مستحق ماسوا له الله څخه بل هیڅوک نشي کېدی، او که له نقلي حیثیته ملاحظه وکړئ؛ نو ټول انبیاء الله او سماویه ادیان د توحید په صحت او د شرک په بطلان متفق دي، بلکه هر نبي ته د وحي په ذریعه دغه ښوولی شوي دي چې په آخرت کې د مشرکانو ټول اعمال بیخي ښکاره دي، او د شرک انجام د خالص حرمان او خُسران څخه سوا بل شی نه دی، لهذا پر هر انسان لازم دي چې له ګردو باطلو معبودانو څخه ځان وشکوي !، او له الله تعالی سره د خپل عبودیت تعلقات ونښلوي، او د الله تعالی وفادار او شکرګزار او احسان پېژندونکی بنده شي، د ده عظمت، قدرت، جلال او کمال ښه وپېژني، عاجز او ناتوانه مخلوقات د ده شریک ونه ګرځوي، او هغه په هم هغو صفاتو سره لوی، پورته، اعلی او ارفع وګڼي، لکه چې واقع کې هم دی.

وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ

او تعظیم نه دی کړی دغو (مشرکانو) د الله حق تعظیم د ده.

تفسیر: یعنې مشرکینو د الله تعالی عظمت، علویت، کمال، جلال، لویي او بزرګي تر هغې اندازې او مرتبې پورې ونه پېژندله چې تر هغې اندازې او مرتبې پورې پر یوه بنده د هغه معرفت او پېژندګلوي لازمه ده چې هغه وپېژني، د الله تعالی د رفیع شان او لوړې مرتبې د اجمالي تصوّر کوونکی آیا د عاجز او محتاج مخلوق حتی د ببڼایه ګټو او بتانو شرکت له الله تعالی سره تجویز کولی شي؟ حاشا وکلاّ ! وروسته له دې نه د الله تعالی د عظمت او قدرت، د جلال او کمال د ځینو شئونو بیان دی.

وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَاوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٧﴾

او ځمکه ټوله به په موټې د الله تعالی کې وي په ورځ د قیامت کې، او اسمانونه به نغښتلي شوي دي په ښي لاس د ده کې، پاکي ده ده ته او لوړ لوی دی له هغو شیانو چې دوی یې شریکوي (له الله سره بُتان او نور شیان).

تفسیر: د الله تعالی د عظمت حال خو دادی چې په ورځ د قیامت کې به ټوله ځمکه په یوه موټې کې ونیسي، او اسمانونه به په ښي لاس کې راونغاړي، په صحیح حدیث کې راغلي دي، ابو هریرة رضي الله تعالی عنه فرمایي چې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې ویې فرمایل: «الله تعالی به ځمکه په موټې کې راونیسي، او اسمانونه به په ښي لاس کې راونغاړي، او بیا به وفرمایي: زه بادشاه یم، چېرته دي د ځمکې بادشاهان؟» یعنې په دغه ورځ به ځرګنده شي چې حقیقي بادشاه الله تعالی دی، د نورو بادشاهي به ختمه شوي وي، یواځې د الله تعالی په واک کې به وي، او حساب به ورسره کېږي.

وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَن شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَىٰ فَإِذَا هُم قِيَامٌ يَنظُرُونَ ﴿٦٨﴾

او پوکل به وکړی شي په شپېلۍ کې، پس بېخوده مړه به شي هر هغه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه چې په ځمکه کې دي، مګر هغه څوک چې اراده وفرمايي الله (د نه وژلو د هغه)، بيا به وپوکل شي په هغې شپېلۍ کې بل ځلي؛ پس ناڅاپه دغه خلق به (چې مړه وو ټول) ولاړ وي منتظر وي (چې څه راباندې کيږي).

تفسير: د اکثرو محققينو علماوو په نزد ټول به دوه ځلي د صور نفخې کيږي، په اوله کې به د ګردو حواس ورکيږي، بيا هغه کسان چې ژوندي دي مړه کيږي، بيا به بله نفخه کيږي، چې د هغې په اثر د مړيو ارواح به د ابدانو په طرف بېرته راګرځي، او ټول بېهوشان به په هوش کيږي، په دغه وخت کې د محشر د دې عجيبو او غريبو مناظرو د ليدلو څخه ګرد مخلوقات حيران کيږي، بيا به په ډېر سرعت سره د قدوس الله په مخکې وړاندې کيږي، او ګرد سره ورحاضرولی شي.

تنبيه: له ﴿إِلَّا مَن شَاءَ اللَّهُ﴾ څخه ځينو جبرئيل، ميکائيل، اسرافيل او داسې نور عليهم السلام مراد نيولي دي، او ځينو له هغوی سره حملة العرش هم شامل کړي دي، د ځينو په نزد ترې انبياء او شهداء مراد دي، والله أعلم، په هر حال دغه استثناء به د هغې نفخې په وخت کې وي چې وروسته له هغه ممکن دي پر دوی هم فناء طاري کيږي، ﴿لِّمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ (٢٤ جزء د المؤمن سورت (٢) رکوع (١٦) آيت).

وَأَشْرَقَتِ الْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتَابُ وَجِيءَ بِالنَّبِيِّينَ وَالشُّهَدَاءِ وَقُضِيَ بَيْنَهُم بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٦٩﴾

او روښانه به شي ځمکه په نور د رب د دغې (ځمکې لپاره د فيصلې د بندګانو)، او کېښود به شي کتاب (عملنامې لپاره د حساب)، او راتله به وکړل شي په انبياوو (محشر ته) او په شهداوو سره (له هر امته)، او حکم به وکړ شي په منځ د دوی کې په حق اوعدل سره، او پر دوی به ظلم ونه کړ شي (هيڅ قدر په تزييد د عقاب يا تنقيص د ثواب).

تفسير: الله تعالى به د حساب لپاره څرنګه چې د ده د شان سره مناسب دي؛ رابښکته شي، او ځمکه به د ده د نور او رڼا په وجه وځليږي، انبياء او شهداء به راوستل شي، او د بندګانو په منځ کې به د عدل او انصاف فيصله وشي.

وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ

او پوره به ورکړه شي هر نفس لره (جزا د هغه) عمل چې کړی يې وو (ده).

تفسير: يعنې د نېکۍ په بدل کې تنقيص او د بدۍ په بدل کې تزييد نه واقع کيږي، د هر چا هومره چې ښه يا بد عمل وي؛ هغه ګرد د الله تعالى په علم کې دی، سم له هغه سره بدل ورکول کيږي، چې د هغه څه تفصيل وروسته له دې نه راځي.

وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴿٧٠﴾

او حال دا چې الله ښه عالم دی پر هغو اعمالو چې دوی يې کوي (نو جزاء به پرې ورکړه شي).

تفسير: يعني شاهدان راځي د دوی د ملزم کولو لپاره، که نه له الله تعالی څخه هیڅ یو شی پټ نه دی (کذا في الموضح).

وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا ۖ

او شړلی رابنکلی کیږي (په شدّت سره) هغه کسان چې کافران شوي دي طرف د دوزخ ته ډلې ډلې.

تفسير: يعني ټول کافران په ټپل وهلو او په نهایت ذلت او خواری سره د دوزخ په طرف شړل او بیول کیږي، څرنګه چې د کفر اقسام او مراتب ډېر دي؛ نو هر قسم او هره درجه د کفارو ډله سره ببله ببله کوله شي.

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَٰبُهَا

تر هغه پورې چې راشي دوی دوزخ ته حال دا چې وبه پرانیستلی شي دروازې د دغه (دوزخ).

تفسير: هم هغسې چې د دنیوي بندیخانې دروازې خلاصې نه وي، هر کله چې کوم بندي په کې ننویستل کیږي، ور یې ورته خلاصوي، او وروسته د ده له ننوتلو څخه ببرته وربندول کیږي، همداسې څه وخت چې دوزخیان دوزخ ته نژدې رسیږي، د دوزخ دروازې پرانیستلی کیږي، او دوزخیان په ټپل وهلو سره په کې غورځولی کیږي، او بیا یې دروازې ترلی کیږي، کما قال الله تعالی: ﴿إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ﴾ (همزة).

وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَآ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ

او وبه وایي دوی ته خزانچیان (متصرفان) د دغه (دوزخ) آیا نه وو راغلي تاسې ته رسولان له تاسې نه.

تفسير: يعني هغه پرښتې چې د دوزخ محافظانې دي، دوی به کفارو ته د ملامتی په ډول سره داسې وایي: «آیا نه وو درغلی تاسې ته رسولان له تاسې»، يعني چې له هغوی څخه له دې سببه چې ستاسې له جنس څخه وو؛ فائده اخیستل ډېر اسان وو.

يَتْلُونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِ رَبِّكُمْ وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا ۚ قَالُوا۟ بَلَىٰ وَلَٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ عَلَى الْكَٰفِرِينَ ﴿٧١﴾

چې لوستل به دغو (رسولانو) پر تاسې آیتونه (د قرآن) د رب ستاسې، او ویرول به دوی تاسې له ملاقات د هغې ورځې ستاسې چې دغه ده، وبه وایي (کفار چې ولې نه وو راغلی) بلکه راغلی وو، ولیکن ثابته شوې ده کلمه (حکم) د عذاب پر کافرانو.

تفسير: يعني ولې انبیاء نه وو راغلي !؟ بلکه ضرور راغلي وو، او د الله تعالی کلام یې راوړی وو، او له نن ورځې څخه ډېر زیات ویرولی شوي وو، لیکن مونږ له خپلې بدبختی او نالایقی د هغو پندونو ته غوږ کښېنښود، څو بالآخر د الله تعالی د داسې قاطع او لا یتغیّر تقدیر سره مخامخ شو، او د عذاب حکم پر مونږ کفارو په قطعي ډول ثابت او نافذ شو: ﴿فَاعْتَرَفُوا بِذَنبِهِمْ فَسُحْقًا لِّأَصْحَابِ السَّعِيرِ﴾ (الملك).

قِيلَ ادْخُلُوٓا أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۖ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٢﴾

وبه ویل شي دوی ته: ننوځئ دروازو د دوزخ ته په دې حال کې چې همېشه اوسیدونکي اوسئ په ده کې، پس بد دی ځای د هستوګنې د متکبرانو (دا دوزخ).

تفسیر: یعنې تاسې د خپل، تکبر، لویي او غرور له سببه د الله تعالی خبره ونه منله، نو اوس تاسې تل په دوزخ کې پراته اوسئ !، او د هغه د عذابونو خوند وڅکئ !.

وَسِيقَ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا ۖ

او بیول کیږي به هغه کسان چې ویرېدل به دوی له ربه خپله طرف د جنت ته ډلې ډلې.

تفسیر: یعنې کله چې د ایمان او تقوی مدارج متفاوت دي، د هرې درجې متیقن مؤمنین جلا او د هرې یوې ډلې به سره ببلې وي، او دغو ګردو جماعتونو ته ډېر زیات تشویق او ترغیب ورکول کیږي، او په ډېره مینه او محبت سره د جنت په طرف لېږل کیږي.

حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَامٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوهَا خَالِدِينَ ﴿٧٣﴾

تر هغه پورې چې راشي دوی جنت ته حال دا چې پرانیستلې شوي به وي دروازې د دغه (جنت)، او وبه وایي دوی ته خزانچیان (متصرفان) د جنت: سلام دې وي پر تاسې، پاک یئ تاسې (له ګناهونو) پس ننوځئ جنت ته په دې حال کې چې همېشه اوسیدونکي اوسئ (په ده کې).

تفسیر: څرنګه چې د مېلمنو له راتګه څخه پخوا د مېلمستون دروازې پرانیستلې کیږي، او د هغوی لپاره د هوسایۍ وسائل او وسائط برابرولی شي؛ کله چې جنتیان هلته ورسیږي، نو د جنت دروازې به د دوی په مخ کې پرانیستلې خلاصې وي، لکه څنګه چې د «ص» سورت په (۴) رکوع کې راغلي دي: ﴿مُفَتَّحَةً لَّهُمُ الْأَبْوَابُ﴾ او د الله تعالی پرښتې به په نهایت اعزاز او اکرام سره په سلامونو او ثناوو او نورو د دوی استقبال کوي، او ورته «هر کله راشئ ! ښه راغلئ !» وایي، او د جنّت د تل اوسېدلو بشارات او زیري به ورته کوي.

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي صَدَقَنَا وَعْدَهُ

او وایي به دغه (جنتیان): ټوله ثناء صفت خاص الله ته دي، هغه (الله) چې رښتینه یې کړه له مونږ سره وعده خپله.

تفسیر: یعنې د الله تعالی شکر او حمد وایو، هغه وعدې چې مونږ د انبیاوو له خولې څخه اورېدلي دي، د هغو تصدیق مونږ پخپلو سترګو وینو.

وَأَوْرَثَنَا الْأَرْضَ نَتَبَوَّأُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَاءُ ۚ

او میراث یې راکړه مونږ ته ځمکه (د جنت) چې ځای نیسو له جنته هر ځای چې خوښ شي ځمونږ.

تفسیر: شاه صاحب لیکي: «جنتیانو ته حکم شته هر چېرې چې زړه یې غواړي، هم هغلته دې وسیږي، لیکن د هر جنتي زړه به هم هغه ځای خوښوي چې د ده لپاره لا له پخوا څخه مخصوص او معین کړی شوی دی»، د ځینو په نزد مراد

يې داسې دی: چې په جنت کې د تللو او راتللو او له یوه ځای بل ځای ته ورتګ هیڅ ممانعت نه دی، او هر جنتي هر څېرې چې یې زړه وغواړي؛ هم هغلته وردرومي.

فَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ﴿٧٤﴾ وَتَرَى الْمَلَائِكَةَ حَافِّينَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ۚ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيلَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٧٥﴾

پس ښه دی اجر د (نېک) عمل کوونکو (دغه جنّت). او وینې به ته (ای محمده !) پرښتې طواف کوونکې (چار چاپېر) له عرشه چې تسبیح به وایي دوی (پیوسته) له حمده ثنا د رب د دوی سره، او حکم به وکړی شي په منځ د خلقو کې په حق سره، او وبه ویلی شي چې: ټوله ثنا ده خاص الله ته چې رب پالونکی د عالمیانو دی.

تفسیر: یعنې څه وخت چې الله تعالی د حساب او کتاب لپاره د فیصلو میدان ته راشي، په دغه وخت کې به پرښتو د عظیم عرش په چار چاپېر حلقه ترلې وي، او ګردې به د خپل رب په تسبیح او تحمید کې مشغولې وي، او د ګردو بندګانو د اعمالو فیصلې به په ډېر انصاف سره وکړی شي، چې د هغې په اثر به له هر لوري څخه په ډېر جوش او خروش سره د ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ نارې پورته کیږي، یعنې ټوله ثنا صفت او محامد هغه پاک الله ته لایق دي، چې د ګرد جهان رب او پروردګار دی، او د ټول عالم په نسبت یې ښه احکام او عمده فیصلې صادرې کړي دي.

تمّت سورة الزمر بعون الله وتوفیقه، فله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ المُؤمِنِ

«د (المؤمن) سورت مکي دی، پرته له (۵۶، ۵۷) آیتونو څخه چې مدني دي، (۸۵) آیته او (۹) رکوع لري، په تلاوت کې (۴۰) او په نزول کې (۶۰) سورت دی، وروسته د (الزّمر) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿۲﴾ غَافِرِ الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ

نازلېدل د دې کتاب (قرآن) له (جانبه) د الله دي، چې (دی) ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو)، ښه عالم دی (پر هر څیز). بښونکی د ګناهونو دی (عاصیانو لره)، او قبلوونکی د توبې دی (تائبانو لره).

تفسیر: یعنې توبه قبلوي او له ګناهونو ځنې تائب داسې پاک او صافوي چې ګواکې له سره یې څه ګناه او خطا نه وي کړې.

شَدِيْدِ الْعِقَابِ ذِي الطَّوْلِ

سخت دی عذاب (د ده کفّارو لره) څښتن (خاوند) د فضل دی.

تفسیر: یعنې بې نهایته د قدرت او وسعت او غناء څښتن دی، چې پر بندګانو د انعام او احسان بارانونه وروي.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿۳﴾

نشته لایق او حقدار د عبادت بل هیڅوک مګر یواځې هم دی دی، خاص همده ته ښه رتلل دي (لپاره د حساب).

تفسیر: چې هلته له ورسېدلو څخه وروسته هر یوه ته د دوی د اعمالو مکافات او بدل ورکول کیږي.

مَا يُجَادِلُ فِيْٓ اٰيٰتِ اللهِ اِلَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

جګړې نه کوي (طعنې نه وایي) په آیتونو د الله کې مګر هغه کسان چې کافران شوي دي.

تفسیر: یعنې د الله تعالی کلام او خبرې او د ده د عظمت او قدرت دلائل داسې نه دي، چې په هغه کې څه مناقشه، مجادله او جګړه وکړه شي، مګر هغه خلق چې دا یې له خپلو ځانونو سره غوټه کړېده چې د خورا روښانو دلائلو او براهینو او له ډېرو ښو ښکاره وو شواهدو څخه به هم انحراف او انکار کوي، نو دوی پر دغو د رښتیا خبرو په ناحقه سره جګړې او مناقشې کوي.

فَلَا يَغُرُّكَ تَقَلُّبُهُمْ فِي الْبِلَادِ ﴿۴﴾

پس نه دې تېر باسي تا ګرځېدل د دوی (په هوسایي سره) په ښارونو کې (ځکه چې عاقبت د دوی دوزخ دی).

تفسير: يعنې د داسې منكرينو انجام تباهي او هلاكت دى، اګر كه دوى في الحال په ښارونو او كليو كې ګرځي، سيلونه، سياحتونه او سوداګري كوي، او پخپلو چرچو كې مشغول دي، نو نه ښايي چې تاسې د دوى پر دغه راحت او هوسايۍ وغولېږئ، ځكه چې دغه د الله تعالى له طرفه امهال او استدراج دى.

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَّالْأَحْزَابُ مِنْ بَعْدِهِمْ ۖ وَهَمَّتْ كُلُّ أُمَّةٍ بِرَسُولِهِمْ لِيَأْخُذُوهُ وَجَادَلُوا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ فَأَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴿٥﴾

دروغجن شميرلي وو (رسولان خپل) پخوا له دوى نه قوم د نوح او نورو اقوامو وروسته له دوى نه، او قصد وكړ هر امّت (له دوى نه) پر رسول خپل چې ونيسي دوى هغه (رسول او ضرر ورورسوي)، او جګړې به كولې دوى (له دغو رسولانو سره) په باطله سره، لپاره د دې چې پټ كړي په دغه (باطل سره) حق (توحيد)، پس ومو نيول دوى (په عذاب سره)، پس څرنګه وو سزا عقوبت ځما (دوى لره؟).

تفسير: د هر امّت اشرارو د خپلو انبياوو د وژلو يا د زحمت او تكليف وررسولو ارادې كړې وې، او همېشه هغوى دداسې چلونو په جوړولو كې مصروفېدل، چې د هغو په وسيله حق او رښتيا دين ته ماتې او شكست وركړي، ليكن د دې په ځاى چې دغه اشرار ځمونږ انبياوو ته لاس وروغځوي، يا يې ونيسي؛ مونږ همدغه اشرار پخپل غضب او قهر كې اخته او سختې سزاوې مو ورته وركړې دي، بيا وګورئ چې د دوى بېخ او بكر مو څرنګه له بېخه وويست؟ نن هم د هغو سپېره شويو اقوامو څه آثار چېرې شته او په نظر راځي، چې د هغو د ليدلو څخه يو انسان د دوى د تباهۍ په نسبت څخه فكر، غور او تصوّر كولى شي.

وَكَذَٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّهُمْ أَصْحَابُ النَّارِ ﴿٦﴾

همداسې (لكه وجوب د عذاب پر دغو مكذبينو) واجبه شوې ده خبره (د عذاب) د رب ستا پر هغو كسانو چې كافران شوي دي (هغه كلمه دا ده چې) بېشكه دوى ملګري د اور (د دوزخ) دي.

تفسير: يعنې هم هغسې چې پر پخوانيو اقوامو د عذاب راتلونكې خبره پوره نازله او منطبقه شوې ده، پر اوسنيو منكرينو يې هم نازله وبوله، او هم هغسې چې د انبياوو د اعلان سره موافق پر كفارو دنيوي عذاب نازل شوى دى؛ ستا د رب دغه خبره هم يو ثابت شوى حقيقت دى، چې په آخرت كې د دغو خلقو ځاى دوزخ دى.

الَّذِينَ يَحْمِلُونَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنُوا ۚ

هغه كسان (له ملائكو) چې پورته اخلي عرش او هم هغه (پرښتې) چې چارچاپېرې دي د عرش تسبيح وايي سره د حمده ثناء د رب د دوى، او ايمان يې راوړى دى په دغه (الله)، او مغفرت غواړي (له الله نه) هغو كسانو ته چې ايمان يې راوړى دى.

تفسير: يعنې د عظيم عرش حاملين او د هغه په چارچاپېر كې بېشماره مطوفيني پرښتې چې د دوى غذاء يواځې د الله تعالى تسبيح او تحميد دى، او د الله تعالى د دربار د مقربيت لامله په اعلى درجې سره د ايمان او يقين لرونكې دي، دوى د الله تعالى په حضور كې د مؤمنينو لپاره دعاء او استغفار كوي.

رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِيْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ۝۷

(نو وايي چې) ای ربه ځمونږ ! احاطه کړې ده او پراخه دی هر شي ته ستا رحمت او علم، پس مغفرت وکړه هغو کسانو ته چې توبه يې ايستلي ده، او متابعت يې کړی دی د لارې ستا، او وساته دوی له عذابه د دوزخ نه.

تفسير: دغه يې د پرښتو د استغفار صورت ښوولی دی، يعنې د الله تعالی په دربار کې داسې عرض کوي: «ای ځمونږ ربه ! ستا علم او رحمت په هر شي محيط دی، پس هغه ځوک چې ستا په محيط علم يې بد کارونه پريښي وي، او د زړه په صدق سره يې ستا په طرف رجوع کړي وي، او ستا پر سمه لاره يې د تللو زيار، کوښښ ايستلی وي، او د بشريت په اقتضاء څه کمزوري او خطاوې له دوی نه صادرې شوي وي؛ ته پخپل فضل، رحمت او کرم سره هغه وروبښه، نه په دنيا کې څه ربړ او زحمت ورپښې کړې !، او نه په عُقبا کې د دوزخ مخ ورښکاره کړې !.

رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ جَنّٰتِ عَدْنِ ِالَّتِيْ وَعَدْتَّهُمْ وَمَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَ اَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝۸

(او هم وايي به) ای ربه ځمونږ ! او ننه باسه دوی په جنتونو د همېشه هستوګنې کې هغه چې وعده کړې ده تا له دوی سره، او څوک چې نېک شوي له پلرونو د دوی او (له) ښځو د دوی، او (له) اولادو د دوی، بېشکه چې ته هم ته يې ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: يعنې اګر که جنّت هر چا ته د ده د عمل په صله کې ورسيږي، لکه چې دلته هم د چپ پ چله قيده ښکاره ده، او بې له خپل ايمان او اصلاح ښځه، اولاد، مور و پلار او نور کسان يې هيڅ په کار نه ورځي، ليکن ستا حکمتونه داسې هم دي چې د يوه له خاطره ډېرو کسانو ته د دوی له عمله زيات په اعلی درجه رسوي، لکه چې د «الطور» سورت په لمړۍ رکوع (۲۱) آيت (۲۷) جزء کې راغلي دي: ﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِاِيْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَآ اَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ﴾ نو هغه به هم په حقيقت کې د هم هغه صالح سړي د اکرام او مداراتو يو صورت وي، چې د هغه مور او پلار او ښځه او اولاد هم په هم هغې درجې کې ورسره پرېښودلی شي.

وَقِهِمُ السَّيِّاٰتِ ۭ وَمَنْ تَقِ السَّيِّاٰتِ يَوْمَىِٕذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهٗ ۭ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝۹

او وساته دوی له بديو ځنې !، او هر څوک چې وساتې ته له بديو څخه په دغه ورځ د قيامت کې؛ نو په تحقيق رحمت دې وکړ پر او دغه (ساتل ستا له عذابه) همدغه دی بری ډېر لوی.

تفسير: يعنې په محشر کې دوی ته هيڅ قسم بدي مثلاً وېره، پرېشاني او نور لاحق نه وي، او دغه عظيم الشأن بری او کاميابي خاص ستا په مهربانۍ او مرحمت حاصلېدی شي، ځينو مفسّرينو له «سيئات» څخه سيئه اعمال مراد اخيستي دي، يعنې وروسته له دې نه دوی يې له بدو کارونو څخه محفوظ وفرمايل، او د دوی خوی او عادت يې داسې وګرځاوه چې د بدۍ په لوري متمايل نشي، ښکاره ده هر هغه چې نن دلته له بدۍ ځنې ځان وساتي؛ پر هغه ستا لوی فضل او کرم شوی دی، او همدغسې سړی به هلته اعلی بری او کاميابي حاصلوي، په دغه تفسير کې د «يومئذ» ترجمه دې: د «هغې ورځې» په ځای په «دې ورځې» سره وکړه شي، شاه صاحب (رحمه الله تعالی) ليکي: «يعنې که ستا لطف او مهرباني وي؛ نو له بديو ځنې به دوی ځان وساتي، او پخپل عمل سره هيڅوک خپل ځان نشي ساتلی، له لرې يا ډېرې بدۍ څخه څوک تش دی؟»، په دغو الفاظو سره دغه دواړه تفاسير منطبق کېدی شي.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ اللَّهِ أَكْبَرُ مِن مَّقْتِكُمْ أَنفُسَكُمْ إِذْ تُدْعَوْنَ إِلَى الْإِيمَانِ فَتَكْفُرُونَ ﴿۱۰﴾

بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي (چې دوزخ ته داخل کړل شي)؛ نو غږ به ورته وکړ شي: خامخا دښمني (او قهر) د الله (پر تاسې باندې) ډېر لوی دی له دښمنۍ (او قهر) ستاسې له ځانونو خپلو سره، کله چې وبه بللی شوئ تاسې (په دنیا کې) طرف د ایمان راوړلو ته، پس کافران کېدئ به تاسې (او له ایمانه به تښتېدلئ).

تفسیر: دغه به د قیامت په ورځ کې وایي، شاه صاحب (رحمه الله) لیکي: «یعنې نن تاسې له خپل نفس څخه بېزاره یئ، او پر خپل ځان لعنت وایئ، په دنیا کې چې کافران کېدئ؛ په دغه وخت کې الله تعالی له دې نه زیات پر تاسې لعنت لېږه، او ستاسې له حرکاتو به نارضا وو، چې د هم هغه بدل نن ورځ مومئ».

قَالُوا رَبَّنَا أَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ

(نو) وبه وایي (دا کفّار) ای ربه ځمونږ! مړه دې کړو مونږ دوه ځلې، او ژوندي دې کړو مونږ دوه ځلې.

تفسیر: شاه صاحب لیکي: «پخوا له دې نه تاسې خاوره وئ یا نطفه، په دواړو تقدیرو سره مړه او بېځانه وئ، بیا په تاسې کې سا ننوته، نو ژوندي شوئ، بیا مړه شوئ، بیا به ژوندي راپاځول کېږئ، همدغه دي دوه ژونده او دوه مړینې، لکه څنګه چې الله تعالی د البقرې سورت په (۳) رکوع (۲۸) ایت (۱) جزء کې فرمایلي دي: ﴿كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَاتًا فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾ ځینو نور تفسیرونه هم کړي دي، خو ظاهر همدا تفسیر دی.

فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوبِنَا

پس قایل شو مونږ په ګناهونو خپلو.

تفسیر: هر کله چې مو دا حالت چې له مونږ سره یې وعده شوې وه په سترګو ولیده؛ نو اوس په خپلو ګناهونو قایل شو.

فَهَلْ إِلَىٰ خُرُوجٍ مِّن سَبِيلٍ ﴿۱۱﴾

پس آیا شته د وتلو (ځمونږ ته له دغه دوزخه) کومه لاره؟.

تفسیر: یعنې افسوس چې اوس حسب الظاهر له دې ځایه د خلاصېدو او تښتېدلو هیڅ یوه چاره او لاره نه راښکاري ماسوا له دې چې تا پخپل قدرت سره مونږ ته دوه ځلې موت او حیات راکړی دی، درېیم ځلې مو هم دنیا ته ولېږئ، څو دا ځلې هلته صالحه اعمال وکړو، او سره له ډېرو نېکیو ببرته درحاضر شو.

ذَٰلِكُم بِأَنَّهُ إِذَا دُعِيَ اللَّهُ وَحْدَهُ كَفَرْتُمْ ۖ وَإِن يُشْرَكْ بِهِ تُؤْمِنُوا ۚ فَالْحُكْمُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ ﴿۱۲﴾

دغه (ابدي عذاب) تاسې ته په سبب د دې دی، کله چې وبه باله شو الله یواځې (بې له نورو معبودانو ستاسې)؛ نو کفر به اختیار کړ تاسې، او که شریکان به هم وبللی شول له الله سره؛ نو ایمان به راوړ تاسې، پس حکم خاص الله لره دی (چې هر څه کوي دغه الله) ډېر پورته دی، ډېر لوی دی.

تفسير: يعنې بېشکه اوس د دنيا په لوري د ببرته ورتګ هيڅ يو صورت نشته، اوس تاسې د خپلو پخوانيو اعمالو سزاوې دروا خلئ، ستاسې په نسبت د ابدي هلاکت دغه فيصله ځکه شوې ده، چې تاسې د واحد الله او حقيقي معبود غږ ته غوږ کښېښود، او تل مو د ده له وحدانيت څخه انکار کوو، که له تاسې نه د کوم دروغ او باطل معبود په لوري بلنه کېده؛ نو على الفور به مو «آمنّا وصدّقنا» ويل، او په هغه پسې به مو منلې وهلې.

هُوَ الَّذِي يُرِيكُمْ آيَاتِهِ وَيُنَزِّلُ لَكُمْ مِنَ السَّمَاءِ رِزْقًا ۚ وَمَا يَتَذَكَّرُ إِلَّا مَنْ يُنِيبُ ﴿١٣﴾

الله هغه ذات دى چې ښيي تاسې ته دلائل خپل، او نازلوي تاسې ته له (طرفه) د اسمانه رزق روزي (باران چې سبب د روزۍ دى)، او پند نه اخلي (په دغو دلائلو) مګر هغه چې راګرځيدلي وي (له شرکه او معصيته توحيد او طاعت ته).

تفسير: يعنې د الله تعالى د عظمت او وحدانيت دلائل او نښې په هر څيز کې ظاهرې دي، انسان ته ښايي چې يواځې پخپلې روزۍ او رزق کې لږ غور او دقّت وکړي، او ودې ګوري چې په څه وسائلو او وسائطو سره هغه وررسيږي، حتى چې د هغه سامان له اسمانه هم تهيه کيږي، بيا په نورو شيانو کې هم د ده عقل او پوهه رسيږي، ليکن که څوک هغه لوري ته له سره رجوع هم ونه کړي، او له غور او فکر څخه کار وانخلي، نو له کوم ځايه او په کومې وسيلې سره به پوهـه حاصله کړى شي؟.

فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ ﴿١٤﴾

پس وبولئ تاسې الله په دې حال کې چې خالص کوونکي اوسئ دغه (الله) ته (د) دين (له شرکه)، او اګر که بد ګڼي دغه کافران (دغه اخلاص ستاسې).

تفسير: يعنې د الله تعالى بندګانو ته ښايي چې له پوهې او عقل څخه کار واخلي، او د واحد الله په طرف رجوع وکړي، او هم هغه دې وبولي او عبادت دې وکړي، او د ده په بندګۍ کې دې بل چا ته شرکت ور نه کړي، بېشکه چې د مخلصو بندګانو د دغه موحديت، د واحد احد الله د عبادت کولو څخ کفار او مشرکان خپه کيږي، چې دوى ولې نور ګرد معبودان له منځه لرې کړي دي؟ او صرف واحد الله قبلوي؟ او يواځې د همغه قدّوس الله په عبادت کې مشاغلت لري؟، مګر پوخ او حقيقي موحد هم هغه دى چې د مشرکانو په مجمع کې د توحيد غږ پورته کړي، او د هغوى د بد ويلو او خپګان څخه له سره اندېښنه او پروا ونه کړي !.

رَفِيعُ الدَّرَجَاتِ ذُو الْعَرْشِ يُلْقِي الرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِ عَلَىٰ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ

(همدغه الله) پورته کوونکى د درجو (د مؤمنانو) دى، څښتن (مالک) د عرش دى، رالېږي روح (جبرئيل يا پټې خبرې) په امر حکم خپل پر هغه چا چې اراده وفرمايي له بندګانو خپلو.

تفسير: له پټو خبرو څخه وحي مراد ده، چې پر انبياوو عليهم السلام نازلېږي، او د دوى د ورځې وو په وسيله نورو بندګانو ته هم رسيږي، لکه چې د قيامت تر ورځې پورې به رسيږي.

لِيُنْذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ ﴿١٥﴾

لپاره د دې چې وويروي (خلق) له ورځې د ملاقات.

تفسير: يعني په هغه ورځ کې چې ټول اولين او آخرين به سره يو ځای د پاک الله په حضور کې حاضريږي، او هر يو سړی به د خپلو ښو يا بدو اعمالو له بدل سره ملاقات کوي، يا ارواح له اجسادو، يا اعمال له عمالو، يا مظلومان له ظلامو، يا عابدان له خپلو معبودانو سره ګوري.

يَوْمَ هُمْ بَارِزُونَ ۚ

په هغه ورځ کې چې دوی به راښکاره وي.

تفسير: يعني له قبورو څخه به ووځي، او په يوه داسې ډاګ سم صاف هوار ميدان کې به حاضريږي، چې هلته به هيڅ غر او غونډۍ او نور حائل نه وي.

لَا يَخْفَىٰ عَلَى اللَّهِ مِنْهُمْ شَيْءٌ ۖ

پټ به نه وي پر الله له دوی نه هيڅ څيز.

تفسير: يعني ښه وپوهېږئ چې د هغه أحكم الحاكمين په دربار کې حاضرېدل دي، چې له هغه څخه ستاسې هيڅ احوال پټ نه دي، او ګرد ظاهري او باطني اسرار او احوال ورته ښکاره او څرګند دي، او د دوی ګرد اعمال به دوی ته وروړاندې کيږي، او خپله جزاء مومي، بيا به داسې وفرمايي الله جل جلاله پس له نفخې د صور:

لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۖ لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿١٦﴾

چا لره دی سلطنت؟ (نو ځواب فرمايي پخپله الله) نن ورځ خاص الله لره دی (سلطنت) چې يو دی ښه غالب قوي.

تفسير: يعني په هغه ورځ کې په ظاهري او مجازي ډول به هم د هيڅا سلطنت او باچاهي نه وي پاتې، او يواځې د هم هغه مالك الملكوت او صاحب الكبرياء والجبروت حكومت او سلطنت به دائم او قائم وي، چې د ده په مقابل کې ټول زور او قوّت او طاقت عاجز او ناتوانه مطيع او منقاد دی.

الْيَوْمَ تُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ ۚ لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ ۚ إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿١٧﴾ وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْآزِفَةِ إِذِ الْقُلُوبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ كَاظِمِينَ ۚ

نن ورځ به جزاء ورکړه شي هر نفس ته په قدر د هم هغه عمل چې کړی يې دی، نشته هيڅ قدر ظلم نن ورځ، بېشکه چې الله ډېر ژر حساب کوونکی دی. او ووياړوه (ای محمده ! دغه کفار له عذابه) د ورځې رانژدې، کله چې زړونه به په نزد د چنغړ کو وي، په دې حال کې چې غم کوونکي به وي (خاوندان د زړونو).

تفسير: يعني له ډېرې وېرې او خوف زړونه به يې ترپېږي، او تر ستونو پورې به پورته کيږي، او خلق به په دواړو لاسونو سره هغه ټينګ ونيسي، او له دې نه به ويريږي چې چېرې د دوی زړونه د دوی له تنفس سره يو ځای د باندې ونه وځي.

مَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ﴿١٨﴾

نه به وي ظالمانو ته (په قيامت کې) هيڅوک دوست، او نه کوم شفاعتګر چې خبره يې ومنله شي.

تفسير: يعنې داسې کوم شفاعتګر به نه وي چې د هغه خبره به خامخا اورېدله کېږي، سپارښت به هم هغه څوک کولی شي؛ چې د الله تعالی له طرف مجاز او مأذون وي، او د هغه انسان په حق کې کېدی شي؛ چې شفاعت د هغه لپاره غوره او پسند وي.

يَعْلَمُ خَآئِنَةَ الْاَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ ﴿۱۹﴾ وَاللّٰهُ يَقْضِيْ بِالْحَقِّ ؕ

معلوم دي (الله) ته خيانت د سترګو او هغه نيات چې پټوي يې سينې. او الله حکم (فيصله) کوي په حقه (عدل) سره.

تفسير: يعنې له مخلوقاتو ځنې خپلې سترګې وژغوري، او په پټه او مخفي ډول سره پر کوم يو شي نظر وغورځوي، يا د سترګو په يوه کنج يا په غلا سره وګوري، يا پخپل زړه کې کوم نيت وکړي، يا د کومې خبرې اراده يا خيال پخپل زړه کې تېر کړي، له دغو ګردو شيانو څخه پر ټولو او پر هر يوه باندې الله تعالی عليم او خبير دی، او فيصله يې په عدل او انصاف سره کېږي.

وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَقْضُوْنَ بِشَيْءٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿۲۰﴾

او هغه کسان چې بولي يې دوی غير له دغه (الله)؛ حکم نشي کولی دوی په هيڅ څيز، بېشکه الله همدی دی ښه اورېدونکی (د اقوالو) ښه ليدونکی (د اعمالو).

تفسير: يعنې فيصله صادرول د هم هغه ذات کار کېدی شي چې ښه اورېدونکی ښه پوهېدونکی وي، ښه نو دغه بېځانه تېږي او بې روحه بُتان چې تاسې هغوی ته معبود وايئ، او په بندګی کې يې لګيا يئ؛ څرنګه به فيصله وکړی شي، بيا هغه څيز چې د فيصله کولو قوّت او قدرت نه لري، نو هغه څرنګه معبود کېدی شي؟.

اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ كَانُوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَانُوْا هُمْ اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ

آيا نه ګرځي (دغه مشرکان) په ځمکه (ملکونو) کې پس چې وګوري دوی چې څرنګه وو عاقبت آخره خاتمه د هغو کسانو چې وو پخوا له دغو (مشرکانو)؟ چې وو هغوی ډېر سخت له دغو (کفارو) څخه له جهته د قوت او آثار (چې پرېښې يې دي) په ځمکه کې.

تفسير: يعنې ډېرې کلکې او مضبوطې کلاوې، عالي شانه عمارتونه، او د مختلفو اقسامو يادګارونه.

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ﴿۲۱﴾

پس ونيول هلاک کړل دوی لره الله په سبب د ګناهونو د دوی، او نه وو دوی ته له (عذابه د) الله هيڅوک ساتونکی.

تفسير: يعنې کله چې څوک مو له دنيوي عذاب څخه نشي بچ کولی؛ نو له اخروي عذاب څخه مو څوک ژغورلی شي؟.

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَكَفَرُوْا فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّهٗ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۲﴾

دغه (نيول او اهلاک د دوی) په سبب د دې وو چې بېشکه هغوی ته به راتلل رسولان د دوی په دلائلو ښنو ښکاره وو، پس کافران شول؛ پس ونيول دوی لره الله (هلاک يې کړل)، بېشکه چې دغه (الله) قوي ښه زورور سختوونکی د عذاب دی.

تفسير: يعنې تاسې هم د هغوی په شان د رسول الله صلى الله عليه وسلم په تكذيب كې فلاح نه شئ موندلى، او بالآخر رسوا او هلاك كېږئ، او قدّوس الله به پخپل زور او قوّت سره خپل رسول فاتح، غالب، مظفر او منصور ګرځوي، په همدغه مناسبت الله أكرم شأنه وأعظم برهانُه اوس د موسى عليه السلام او د فرعون قصه دغسې بيان فرمايي.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٢٣﴾

او خامخا په تحقيق لېږلى وو مونږ موسى په آيتونو دلائلو خپل، او په برهان سند ښكاره سره.

تفسير: له «آيتونو او دلائلو» څخه يې معجزات او له «برهان سند ښكاره» څخه يې ماسوا له معجزاتو نور قسمونه دلائل او براهين مراد فرمايلي دي، يا دې له «آيات» څخه تعليمات او احكام او لـه ﴿سُلْطَانٍ مُّبِينٍ﴾ څخه معجزات مراد واخيست شي.

إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَقَارُونَ

طرف د فرعون ته او هامان ته او قارون ته.

تفسير: هامان د فرعون وزير وو، قارون د بني اسرائيلو ډېر لوی متمول او تاجر وو، چې د موسى عليه السلام پر خلاف د فرعون پر مرضى به يې اقدامات كول، پخوا له دې نه د ده قصه تېره شوې ده.

فَقَالُوا سَاحِرٌ كَذَّابٌ ﴿٢٤﴾

پس وويل (دوى چې دا رسول) ساحر كوډګر دى دروغجن دى.

تفسير: يعنې ساحر او كوډګر دى، د دغو معجزاتو په ښوولو كې دروغجن دى، د رسالت په دعوى كې دغسې به ځينو د هغو ويلي وي، او نورو به د دوى تصديق كړى وي.

فَلَمَّا جَاءَهُم بِالْحَقِّ مِنْ عِندِنَا قَالُوا اقْتُلُوا أَبْنَاءَ الَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ وَاسْتَحْيُوا نِسَاءَهُمْ ۚ

پس كله چې راغى (موسى) دغو (قبطيانو) ته په حقه سره له نزده ځمونږ؛ وويل (قبطيانو) چې: ووژنئ تاسې ځامن د هغو (سبطيانو) چې ايمان يې راوړى دى له موسى سره، او ژوندى پرېږدئ تاسې ښځې (لونې) د دوى (خدمت ته).

تفسير: دغه حكم يې دويم ځلي د موسى عليه السلام د تشريف راوړلو څخه وروسته وركړ، څو په دغه سره د بني اسرائيلو تذليل او توهين وكړي، او د دوى تعداد كم كړي، او د دوى په زړونو كې دغه خيال كينوي چې دغه ګرد مصائب پر مونږ د موسى عليه السلام له سببه راغلي دي، او په دغه علت د هغه ملګرتيا پرېږدي.

وَمَا كَيْدُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ ﴿٢٥﴾

او نه دى كيد مكر د كافرانو مګر په ګمراهى كې.

تفسير: يعنې له هسې مكرونو، فريبونو، او تدابيرو څخه هيڅ نه كيږي، الله تعالى له خپلو مخلصو بندګانو سره امداد او معاونت فرمايي، او د منكرينو ګردې حيلې او پلمې ناكامې او غلطې ثابتوي.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُوْنِيْٓ اَقْتُلْ مُوْسٰى وَلْيَدْعُ رَبَّهٗ ۚ

او وويل فرعون (عملي خپلې ته): پرېږدئ (اى مشرانو) ما چې ووژنم موسى او راودې بولي (موسى) رب خپل (چې خلاص يې کړي له ما).

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «فرعون وويل: ما پرېږدئ ! ښايي چې د ده د سلطنت ارکانو به د موسى د وژلو مشوره نه وي ورکړې، او هغوى د ده د معجزاتو له ليدلو څخه متأثر شوي او ويريدلي وو، او له دې نه ډارېدل، نه چې د موسى رب ځمونږ څخه انتقام واخلي، پخپله فرعون هم ويريدلى وو او سخت مرعوب او منفعل شوى وو، ليکن خپل دغه خوف او بيم به يې پټاوه، او په خلقو کې به يې د خپل قوّت او شجاعت د اظهار لپاره دغسې خبرې کولې، څو خلق وګڼي چې د فرعون په مخکښې د موسى د وژلو په لاره کې هيڅ يوه مانع او رادع نشته، او د فرعون د ارادې په مقابل کې هيڅ يو قوّت او طاقت نشي درېدلى».

اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يُّبَدِّلَ دِيْنَكُمْ اَوْ اَنْ يُّظْهِرَ فِى الْاَرْضِ الْفَسَادَ ۝۲۶

(وويل فرعون) بېشکه چې زه ويرېږم چې بدل به کړي (موسى) دين ستاسې (اى قبطيانو !) يا به ظاهر کړي (موسى) په ځمکه (د مصر) کې فساد (او مخالفت په منځ ځمونږ کې).

تفسير: يعنې که موسى عليه السلام ژوندى پرېښود شي؛ نو د ديني او دنيوي د دواړو قسمو د نقصان اندېښنه ده، ممکن دي چې دى د خپل وعظ او تلقين په اثر ستاسې هغه مذهبي دود او دستور در خراب کړي، چې له پخوا راهيسې جريان او دوام لري، يا د سازش او د نورو وسائلو جال په ځمکه کې وغځوي، او په مملکت کې بد امني واچوي، چې نتيجه به يې داسې کيږي، چې د تاسې (قبطيانو) حکومت به خاتمه وموميږي، او سلطنت به د بني اسرائيلو (سبطيانو) په لاس کې ورشي.

وَقَالَ مُوْسٰٓى اِنِّيْ عُذْتُ بِرَبِّيْ وَرَبِّكُمْ مِّنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ

او وويل موسى چې: بېشکه زه پناه غواړم په رب خپل او په رب ستاسې له (شره د) هر متکبره (سرکښه).

تفسير: کله چې موسى عليه السلام ته د دغو مشورو خبر ورورسېد؛ نو خپل قوم ته يې وفرمايل چې: زه له دغو ويرولو څخه له سره نه ويرېږم، او نه يې پروا لرم، يواځې فرعون لا څه کوې، که د دنيا ګرد متکبرين او جبّارين هم سره راټول شي؛ خو بيا ځما الله ما د دوى له شر څخه ساتي، او هغه ماته کافي دى، ما خپل ځان يواځې د ده په پناه کې ورکړى دى، هم هغه ځما حامي او مددګار دى، کما قال الله تعالى: ﴿قَالَ لَا تَخَافَآ اِنَّنِيْ مَعَكُمَآ اَسْمَعُ وَاَرٰى﴾ (۱۶ جزء د طه سورت (۲) رکوع (۴۵) آيت)، ښه وروسته د الله تعالى له حمايته او امداده داسې اولوالعزم نبيان به څرنګه له يوه مغرور انسان څخه وويريږي؟ نو ځکه موسى عليه السلام وويل: بېشکه زه پناه غواړم په رب خپل او په رب ستاسې له شره د هر متکبّره سرکښه.

لَّا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ ۝۲۷

چې نه راوړي ايمان په ورځ د حساب.

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله تعالى) ليکي: «څوک چې په حساب او کتاب يقين او باور ولري؛ نو هغه به څرنګه ظلم وکړي؟».

وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَن يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ وَقَدْ جَاءَكُم بِالْبَيِّنَاتِ مِن رَّبِّكُمْ ۖ وَإِن يَكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُ ۖ وَإِن يَكُ صَادِقًا يُصِبْكُم بَعْضُ الَّذِي يَعِدُكُمْ ۖ

او وويل يو سړي مؤمن له خپلوانو د فرعون څخه چې پټاوه ده ايمان خپل (له نورو قبطيانو): آيا وژنئ تاسې داسې يو سړی چې وايي رب ځما الله دی، او حال دا چې په تحقيق راغلی دی تاسې ته په ښکاره دلائلو له (طرفه) د رب ستاسې، او که چېرې وي (موسی) دروغجن؛ نو پس په همده ده (جزاء د) دروغو د ده، او که چېرې وي (موسی) صادق رښتينی؛ نو وبه رسيږي تاسې ته ځينې د هغه عذاب چې وعده کوي (موسی د هغه) له تاسې سره.

تفسير: يو مؤمن سړی چې هغه تر دغه وخته پورې خپل ايمان له فرعونه او د ده له قومه مخفي ساتلی وو، د ﴿ذَرُونِيٓ أَقْتُلْ مُوسَىٰ﴾ په ځواب کې يې داسې وويل: «آيا ته د داسې يو سړي په ناحقې وينې تويولو پسې خپله ملا تړې چې هغه علاوه له دغه اظهاره بله هيڅ ګناه نه لري، چې ځما رب يواځې الله دی، او دی ولې يواځې يوه الله ته خپل رب وايي؟ حال دا چې دی د خپلې دغې دعوی په تصديق کې ښکاره دلائل هم لري، چې تاته يې درښوولي دي، او ته د هغو وژلو ته دومره ضرورت هم نه لرې، بلکه امکان لري چې د هغه وژل تاته مضر هم واقع شي، فرض يې کړه: که دی پخپلې دغې دعوی کې دروغجن هم ثابت شي؛ نو پر دغسې لويو دروغو يې خامخا الله تعالی هلاک يا رسوا کوي، د الله تعالی عادت داسې نه دی چې هغه داسې کاذب ته دومره موقع او فرصت ورکړي چې ترقي وکړي يا بری ومومي، د دې لپاره چې د دنيا خلق د تل لپاره پرې تېر نه وځي، او له دغه التباس او اشتباه څخه ووځي، که په واقع سره دی صادق او رښتينی وي؛ نو له هغه دنيوي او اخروي عذاب څخه به چې دی خپل مخالفين او مکذبين ويروي، څه نه څه برخه علی اليقين تاته به هم دررسېدونکې وي، لهذا په ډومبني تقدير سره د ده په وژلو کې تلوار کول عبث او بېکاره دي، او په دويم تقدير خو بيخي د نقصان او خُسران موجب دی».

إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿٢٨﴾

بېشکه الله سمه لاره نه ښيي هر هغه چا ته چې هغه مسرف له حده تېرېدونکی وي، ډېر دروغجن وي.

تفسير: يعنې که بالفرض موسی عليه السلام دروغجن وي؛ نو له سره به الله تعالی ورته داسې سمه لاره نه ښوولې، او هغه به داسې متواليًا او مسلسلاً خپلې معجزې نشوې راښوولې، او په بري او کاميابی کې به يې دغومره ترقي او پرمختګ نه کاوه، او که ته داسې دروغجن يې چې عمدًا يوه رښتين او صادق نبي ته د دروغو نسبت کوي؛ نو بالآخر به دې الله تعالی ذليل، پاتې او ناکاموي.

يَا قَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظَاهِرِينَ فِي الْأَرْضِ فَمَن يَنصُرُنَا مِن بَأْسِ اللَّهِ إِن جَاءَنَا ۚ

ای قومه ځما ! تاسې لره دی ملک باچاهي نن ورځ په دغه حال کې چې غالب يې په ځمکه (د مصر کې پر سبطيانو) پس څوک به نصرت وکړي له مونږ سره له عذابه د الله که راشي (دا عذاب) مونږ لره (په سبب د قتل د موسی؟) (بلکه ناصر نشته، نو مه يې وژنئ !).

تفسير: يعني پر خپلو تسليحاتو، تجهيزاتو، مه مغرور برئ ! اګر که نن تاسو د دغه شان او شوکت خاوندان يئ، که سبا مو الله تعالى پخپل عذاب محاط او محصور کړي؛ نو کوم يو سړی به تاسو ته نجات او پناه درکولی شي؟ او دغه ستاسې ګرد ساز او سامان به همداسې ويجاړ او وران پاتې کيږي.

قَالَ فِرْعَوْنُ مَآ أُرِيكُمْ إِلَّا مَآ أَرَىٰ وَمَآ أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴿٢٩﴾

وويل فرعون چې: زه نه ښيم تاسې ته مګر هم هغه (مصلحت) چې وينم زه (په وژلو د موسى کې)، او نه ښيم زه تاسې ته (اى قبطيانو !) مګر لاره د نېکۍ (او د مصلحت).

تفسير: ستا په دغه تقرير سره ځما خيالاتو تبديل نه دي موندلى، هر هغه څيز چې ځما په نزد خير او مصلحت وو؛ هم هغه مې تاسو ته وويل، او غواړم چې تاسې په ښه شان سره ځانونه پرې پوه کړئ، ځما په خيال د بهترۍ او صواب هم هغه لاره چې په کې امنيت، راحت او نجات مرکوز دى، همدغه لاره ده چې د دغه سړي خبرو ته دې سمدلاسه خاتمه ورکړه شي.

وَقَالَ ٱلَّذِىٓ ءَامَنَ يَٰقَوْمِ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُم مِّثْلَ يَوْمِ ٱلْأَحْزَابِ ﴿٣٠﴾ مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِمْ ۚ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ﴿٣١﴾

او وويل هغه (سړي) چې ايمان يې راوړى وو: اى قومه ځما ! بېشکه زه ويرېږم پر تاسې (په تکذيب د موسى کې) په مثل د (عذاب) د ورځې د ډلو (د پخوانيو په سبب د تکذيب د انبياوو) په مثل د حال د قوم د نوح (چې ډوب شول) او (په شان) د عاديانو (چې په باد صرصر هلاک شول) او (په شان د) ثموديانو (چې په چغه مړه شول) او هغه کفار چې وروسته له دوى نه وو، او نه دى الله چې اراده لري د ظلم پر بندګانو خپلو.

تفسير: يعني که تاسې همداسې پر تکذيب او عداوت ټينګ ولاړ اوسئ؛ نو سخته اندېښنه ده چې تاسې هم هم هغه عذاب ونه ګورئ چې پخوانيو اقوامو د خپلو انبياوو د تکذيب په مقابل کې ليدلى دى، په ياد يې ولرئ چې د الله تعالى په دربار کې ظلم، تېرى او بې انصافي بيخي نشته، که پر دغسې سختو جرائمو تاسې ته يا نورو اقوامو ته سخته سزا درکړي، او سپېره او تباه مو کړي، نو دغه اهلاک به د عين العدل او نفس الانصاف تقاضا وي.

وَيَٰقَوْمِ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ ٱلتَّنَادِ ﴿٣٢﴾

او اى قومه ځما ! بېشکه زه ويرېږم پر تاسې له (عذابه د) ورځې د رابللو (په چغو سره يو بل ته).

تفسير: عمومًا مفسرين له «يوم التناد» د (ناړې سورې بلنې ورځ) قيامت مراد اخلي، ځکه چې په محشر کې د جمع کېدلو او حساب ورکولو لپاره د هر چا بلنه کيږي او پرله پسې دخلقونو نومونه يادېږي، او اهل الجنت به اهل النار او بالعکس او اهل الأعراف پخپلو منځونو کې يو پر بل ناړې وهي، څو بالآخر داسې غږ وشي: «يا أهل الجنة خلود لا موت، ويا أهل النار خلود لا موت»، اى جنتيانو په جنت کې به همېشه اوسئ، مرګ به در باندى نه راځي، او اى جهنميانو په جهنم کې به تل اوسئ، مرګ به در باندى نه راځي.

يَوْمَ تُوَلُّونَ مُدْبِرِينَ ۚ

هغه ورځ چې وګرځئ تاسې شا اړوونکي (موقف ته په طرف د دوزخ).

تفسير: يعني په محشر کې به په شا اړولو سره د دوزخ په طرف په منډو منډو سره شړلی او تښتولی شئ، يا د عذاب د نزول په وخت کې به د تښتېدلو لپاره ناکامه زيار او کوښښ کوئ.

مَا لَكُمْ مِّنَ اللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾

نو نه به وي تاسو ته له (عذابه) د الله هيڅوک ساتونکی، او هر هغه چې ګمراه يې کړي الله؛ نو نه به وي ده ته هيڅوک هادي لارښوونکی.

تفسير: هيڅوک به مو د الله تعالی له عذاب څخه بچ نه کړي.

وَلَقَدْ جَاءَكُمْ يُوسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا زِلْتُمْ فِي شَكٍّ مِّمَّا جَاءَكُمْ بِهِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَن يَبْعَثَ اللَّهُ مِن بَعْدِهِ رَسُولًا

او خامخا په تحقيق راغلی وو تاسې ته يوسف پخوا له (موسی څخه) په ښکاره دلائلو، پس همېشه به وئ تاسې په شک (ګمان) کې له هغه (حکمه) چې راغلی وو دی تاسې ته په هغه سره، تر هغه پورې کله چې وفات شو (يوسف) نو وويل تاسې چې: له سره به راونه لېږي الله وروسته له دغه (يوسفه) هيڅ رسول.

تفسير: يعني ځئ ! خبره پای (آخر) ته ورسېده ! نه دغه رسول وو، نه وروسته له دې نه بل کوم رسول راتلونکی دی، ګواکې بيخي يې د رسالت له سلسلې څخه انکار وکړ.

كَذَٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابٌ ﴿٣٤﴾ الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ اللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَانٍ أَتَاهُمْ ۖ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ وَعِندَ الَّذِينَ آمَنُوا

همداسې (لکه دغه اضلال) ګمراه کوي الله هر هغه لره چې مسرف له حده تېرېدونکی وي، شک راوړونکی وي (په دين د الله کې). هغه (مسرفين او مرتابين) چې جګړې کوي (له انبياوو سره) په (ابطال) د دلائلو د الله کې بې له کوم برهان علمي سنده چې راغلی وي دوی ته، ډېر لوی دی (دغه جدال) له جهته د بغض په نزد د الله او په نزد د هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی.

تفسير: يعني بې له عقليه او نقليه حجت څخه د الله تعالی په خبرو کې جګړې کوي، او شبهې غورځوي، له دې نه به بل لوی زياتی او بيباکي څه وي؟ نو الله تعالی او د ده ايماندار بندګان له دغو خلقو څخه زيات نارضا او بېزاره وي، چې دغه د دوی د انتهايي ملعونيت سبب دی.

كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿٣٥﴾

همداسې (لکه دغه اضلال) مهر وهي الله (د کفر او شقاوت) پر هر زړه د متکبر (سرکش) ډېر جبر کوونکي.

تفسير: هغه خلق چې د الله تعالی په مخ کې له ډېر غرور څخه خپله غاړه نه ښکته نه کړي، او د انبياوو د ارشاداتو په مقابل کې خپل اطاعت او فرمان منل ښکاره نه کړي؛ نو بالآخر الله تعالی د دوی پر زړونو داسې مهر لګوي چې بيا له سره د قبول الحق او نفوذ الخير ځای او ګنجايش په هغه کې نه پاتې کيږي.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰهَامٰنُ ابْنِ لِي صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَبْلُغُ الْاَسْبَابَ ﴿۳۶﴾ اَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ فَاَطَّلِعَ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى

او وویل فرعون: ای هامان ! جوړه کړه ماته یو مانۍ ډېره لوړه اوچته، ښایي ورسېږم لارو ته (په دغو ختلو سره). لارو د اسمانونو ته پس چې زه وخېژم په طرف د الله د موسی (چې آیا شته که نشته؟).

تفسیر: هر کله چې فرعون وپوهېده چې دغه اله چې موسی علیه السلام ورته دعوت ورکوي بره دی؛ نو د انکار په ډول یې دغه خبره وکړه، چې د دې آیت څخه څرګندیږي چې څوک د الله تعالی د اوچتوالي څخه انکار کوي؛ د فرعون په مذهب دی، او څوک چې پرې اعتراف کوي د موسی علیه السلام په لاره دی.

وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ كَاذِبًا

او بېشکه زه ګمان کوم پر دغه (موسی) د دروغجن.

تفسیر: یعنې د رسالت په دعوی هم، او په دغې دعوی کې هم چې په ټوله دنیا کې ماسوا له هغه هم یوه احد واحد الله څخه چې بره دی، بل هیڅوک حقیقي معبود نشته، ماته خو ماسوا له خپل ځانه بل هیڅ یو رب په نظر نه راځي، لکه څنګه یې چې د (۲۰ جزء د القصص سورت په (۴) رکوع (۳۸) آیت) کې ویلي دي: ﴿مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِيْ﴾.

وَكَذٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَصُدَّ عَنِ السَّبِيْلِ

او همداسې (لکه ښایست د دغې دنیا)؛ ښایسته کړی شوې وه فرعون ته بدي د عمل د ده، او منع کړی شوی وو دی له سمې لارې (د هدایت څخه).

وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ اِلَّا فِيْ تَبَابٍ ﴿۳۷﴾

او نه وو دغه کید مکر د فرعون (په جوړولو د دغې مانۍ کې) مګر په زیان کاری هلاکوالي کې وو.

تفسیر: یعنې د فرعون هومره جړکې، مشورې، تدابیر، چل، پلمې، او نور چې وو هغه ګرد خوشې او بې حقیقته وو، ده پخپله د خپلې تباهۍ لپاره اقدامات وکړل، او موسی علیه السلام ته یې هیڅ ضرر ونه شو رسولی.

وَقَالَ الَّذِيْٓ اٰمَنَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ اَهْدِكُمْ سَبِيْلَ الرَّشَادِ ﴿۳۸﴾

او وویل هغه (سړي) چې ایمان یې راوړی وو: ای قومه ځما ! متابعت وکړئ ځما چې وښیم تاسې ته لاره د هدایت (او صواب).

تفسیر: کله چې فرعون ویلي وو ﴿وَمَآ اَهْدِيْكُمْ اِلَّا سَبِيْلَ الرَّشَادِ﴾؛ د هغه په ځواب کې مؤمن سړي داسې وویل چې ﴿سَبِيْلَ الرَّشَادِ﴾ «د نېکۍ او بهترۍ لاره» هغه نه ده چې فرعون یې تجویز کوي، بلکه تاسې په ما پسې راځئ !، څو د فایدې او بهترۍ لاره ومومئ !.

يٰقَوْمِ اِنَّمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا مَتَاعٌ وَّاِنَّ الْاٰخِرَةَ هِيَ دَارُ الْقَرَارِ ﴿۳۹﴾

ای قومه ځما ! بېشکه همدا خبره ده چې دغه ژوندون لږ خسیس یوه متاع (ګټه ـ فائده لږه) ده، او بېشکه آخرت هم هغه دی کور د قرارۍ (بې زواله).

تفسير: يعنې په فاني او زائل ژوندون او دغو څو ورځنيو عيش او عشرت کې مه غافلېږئ !، او تل د آخرت په فکر او ذکر کې مشغول اوسئ، او مه يې هېروئ !، دغه دنيوي ژوندون په هر ډول سره چې وي، ښه يا خراب؛ پای ته رسيږي او خاتمه مومي، او وروسته له هغه داسې يو ابدي حيات شروع کيږي چې هغه له سره انجام او خاتمه نه لري.

مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ يُرْزَقُونَ فِيهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٤٠﴾

هر څوک چې وکړي بد کار؛ پس جزاء نه ورکوله کيږي (هغه ته) مګر په قدر د هم هغې بدۍ، او هر څوک چې وکړي نېک کار؛ له نارينه وو وي يا له ښځو وي، حال دا چې دی مؤمن وي؛ پس دغه (صالحان مؤمنان) ننه به وځي په جنت کې، رزق روزي به ورکوله کيږي (دوی ته) په دغه جنت کې بې حسابه.

تفسير: په دغه سره د اخروي ژوندون لږ څه تفصيل ښوولی شوی دی، چې اخروي حيات څرنګه ښه کېدی شي، معلوم شو چې هلته ايمان او صالح عمل په کار دی، د مال او متاع هيڅ قدر او قيمت هلته نشته، او دا هم ظاهر شو چې د الله تعالی رحمت د ده پر غضب غالب دی، عاقلانو ته ښايي چې دغه طلايي فرصت او موقع له خپل لاسه ونه باسي.

وَيَا قَوْمِ مَا لِيٓ أَدْعُوكُمْ إِلَى النَّجَاةِ وَتَدْعُونَنِيٓ إِلَى النَّارِ ﴿٤١﴾

او ای قومه ځما ! څه دي ما لره چې بولم تاسې په طرف د نجات، او بولئ تاسې ما په طرف د اور.

تفسير: يعنې ځما او ستاسې معامله هم سره عجيبه ده، زه غواړم چې تاسې د ايمان پر لاره روان کړم، او د الله تعالی له عذابه مو وژغورم، او ستاسې کوښښ دا دی چې ما هم له خپلو ځانونو سره په دوزخ کې اړتاو کړئ، له يوه جانبه داسې دوستي او خير غوښتنه، له بل جانبه داسې دښمني او بده غوښتنه.

تَدْعُونَنِي لِأَكْفُرَ بِاللَّهِ وَأُشْرِكَ بِهِ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ

بولئ تاسې ما لپاره د دې چې کفر اختيار کړم په الله، او چې شريک ونيسم له دغه (الله) سره هغه (څيز) چې نشته ماته په الوهيت د هغه هيڅ علم.

تفسير: يعنې ستاسې د کوښښ حاصل دا دی چې زه معاذ الله له واحد الله څخه انکار وکړم، د ده او د ده د انبياوو خبرې ونه منم، او د ناپوهانو جاهلانو په شان هغه شيان معبود او مستحق د عبادت وبولم چې د دوی الوهيت په هيڅ يوه دليل او علمي اصولو سره هم نه دی ثابت.

وَأَنَا أَدْعُوكُمْ إِلَى الْعَزِيزِ الْغَفَّارِ ﴿٤٢﴾

حال دا چې زه بولم تاسې هغه (الله) ته چې ښه غالب قوي دی (په انفاذ د احکامو) ښه مغفرت کوونکی (د خطيّاتو) دی.

تفسير: يعنې ځما منشأ دا ده چې په هيڅ شان ستاسې سرونه د هغه واحد الله تعالی له درشله لرې نشي، او تل مو سرونه د هغې دروازې په مخکښې ښکته وي، چې نهايت زبردست هم دی، او ډېر زيات د خطاوو بښونکی هم دی، او که مجرم ونيسي؛ نو هيڅوک د هغه ژغورونکی (بچ کوونکی) او خلاصوونکی هم نشته دی، د همدې خبرې وړ (لايق)

او مستحق دی چې انسان د ده په مقابل کې سره له خوفه او رجاء او وېرې خپل د عبودیت سر ښکته کړي، په یاد یې ولرئ چې زه د هغه پاک الله په پناه کې راغلی یم چې تاسې د هغه په طرف بولم.

لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدْعُونَنِي إِلَيْهِ لَيْسَ لَهُ دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا وَلَا فِي الْآخِرَةِ

حقه او رښتیا (دغه) خبره ده: بېشکه هغه (معبود) چې بولئ تاسې ما (عبادت د) هغه ته؛ نشته هغه ته (قوّت د) بلنې (نه) په دنیا کې او نه په آخرت کې (چې شفاعت وکړي د چا).

تفسیر: یعنې ماسوا د الله تعالی څخه بل هیڅ شی داسې نه دی چې په دنیا یا عُقبا کې د ډېرې ادنی نفعې او ضرر مالک وي، نو دمخلوقاتو بندګي اوبلنه که جهل او حماقت نه دی؛ نوبل څه دی؟ ﴿وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ يَدْعُو مِنْ دُونِ اللَّهِ مَنْ لَا يَسْتَجِيبُ لَهُ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَائِهِمْ غَافِلُونَ * وَإِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوا لَهُمْ أَعْدَاءً وَكَانُوا بِعِبَادَتِهِمْ كَافِرِينَ﴾ (۲۶ جزء د الأحقاف سورت (۱) رکوع، (۵ ـ ۶) آیتونه)، آخر داسې عاجزو او ناتوانو شیانو ته انسان په څه نیت او مقصد تعظیم او تکریم کوي او بولي یې؟ د نندارې وړ څیز دا دی چې په دغو کې ډېر شیان هغه دي چې دوی پخپله د خپل ځان په طرف دعوت نه ورکوي، بلکه د دعوت ورکولو او ویلو قدرت او قوّت هم نه لري.

وَأَنَّ مَرَدَّنَا إِلَى اللَّهِ وَأَنَّ الْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَابُ النَّارِ ﴿۴۳﴾

او بېشکه چې ورتله ځمونږ (د ټولو) خاص الله ته دي، او بېشکه چې مسرفان له حده تیریدونکي (مشرکان) همدوی ملګري د اور (د دوزخ) دي (چې تل په کې اوسیږي).

تفسیر: یعنې د کار په انجام د هر ډول تګ او راتګ رجوع او بېرته ورتله د واحد الله په طرف دي، کله چې انسان هلته ورسیږي، د خپلو کړدو تجاوزاتو او زیاتوو نتیجه به ورڅرګندیږي، راوښیه ! چې له دې نه بل زیاتی به څه وي؟ چې عاجز مخلوق ته د خالق درجه ورکړه شي.

کله چې فرعونیانو د هغه مؤمن د قتل قصد وکړ؛ نو ده ورته داسې وویل چې:

فَسَتَذْكُرُونَ مَا أَقُولُ لَكُمْ

پس ژر ده چې یاد به کړئ تاسو (په وخت د لیدلو د عذاب کې هغه) چې زه یې وایم اوس تاسې ته.

تفسیر: یعنې کله چې وروسته له دې نه د خپل تیري، تجاوز او زیاتي د خوند څکوونکو یئ، نو په هغه وخت کې به ځما دغه پند او نصیحت یادوئ، چې هو ! د الله تعالی یوه بنده مونږ ته دغه ګردې خبرې ښوولې وې، او رښتیا یې فرمایلي وې، لیکن د دغه وخت یادونه بیخي مفیده نه واقع کیږي.

وَأُفَوِّضُ أَمْرِي إِلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ ﴿۴۴﴾

او سپارم زه هر کار خپل الله ته، بېشکه چې الله ښه لیدونکی دی (د ټولو اقوالو او افعالو) د بندګانو.

تفسیر: یعنې ما د الله تعالی حجّت درتمام کړی دی، او د نصیحت خبرې مو درپوهولي دي، که تاسو یې نه منئ؛ نو زه له هغه سره څه کار او غرض نه لرم، اوس زه خپل ځان بیخي پاک الله ته سپارم، او پرې پوره اعتماد لرم، که تاسې ځما ربرولو او ضرر رسولو پسې لوبړئ؛ نو هم هغه الله تعالی ځما حامي او ناصر دی، او ټول بندګان د ده تر کنټې لاندې

دي، هغه ستا او ځما دواړو معامله ګوري، د هيڅا هيڅ يو حرکت له ده څخه پټ نه دی، د يوه قانت مؤمن کار دا دی چې له خپلې امکاني سعي او کوښښ ايستلو څخه وروسته نتيجه الله تعالى ته وسپاري.

فَوَقٰىهُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا وَحَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ سُوْٓءُ الْعَذَابِ ۝۴۵

پس وساته دغه (موسى يا مؤمن سړي) لره الله له سختو (عذابونو) د هغو چې مکر کړی وو دوی، او (بالعکس) چاپير شو په آل د فرعون (سره د فرعون) بد عذاب (د غرق په دنيا او بد عذاب په عُقبى کې).

تفسير: يعنې د حق او باطل د دغه کشمکش اخري نتيجه داسې شوه، چې الله تعالى موسى عليه السلام او د ده ملګرو ته سره له هغه مؤمن سړي چې له آل فرعون څخه وو؛ د فرعونيانو له شره او کيده نجات ورکړ، او محفوظ يې وساته، او د فرعونيانو هيڅ يو مکر او فرېب ته يې د اجراء موقع ورنه کړه، بلکه د دوی هغه مکر او فرېب يې پخپله پر هم دوی واړاوه، نو هغه کسان چې د حق منونکو تعاقب ته وتلي وو؛ ووژلى شول، او قوم د قلزم په بحيره کې مغروق او تر اوبو لاندې محروق شول.

اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ۚ

اور (د دوزخ) وړاندې کاوه شي (دا کفار) پر دې (اور) هر سبا او بېګا.

تفسير: يعنې د دوزخ ځای چې په هغه کې به د قيامت په ورځ ننه ايستلى کيږي، هر سبا او بېګا به دوی ته ورښوول کيږي؛ څو د نمونې په ډول د هغه راتلونکي عذاب څخه خوند تل وځکي، دغه د برزخ د عالم احوال شو، له احاديثو څخه ثابت دي چې همداسې د هر کافر په مخکې دوزخ او د هر مسلمان په مخکې جنت صبا او بېګا وروړاندې کيږي.

تنبيه: له دغه آيت څخه يوائې د فرعونيانو د معذّب کېدلو حال په عالم البرزخ کې ثابت شوی وو، وروسته له دې نه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته معلوم کړی شو، چې ټول کفار بلکه د مؤمنينو عصات هم په برزخ کې معذّب کيږي (أعاذنا الله منه) كما ورد في الأحاديث الصحيحة.

وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ۫ اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ ۝۴۶ وَاِذْ يَتَحَآجُّوْنَ فِي النَّارِ فَيَقُوْلُ الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا نَصِيْبًا مِّنَ النَّارِ ۝۴۷

او په هغه ورځ کې چې قايم شي قيامت (نو وبه ويلى شي له جانبه د الله ملائکو ته) ننباسئ تاسې آل د فرعون (سره له فرعون) په ډېر سخت عذاب کې (له عذابه د برزخ) او (ياد کړه) هغه چې جګړه به کوي (دوزخيان د دوزخ) په اور کې، پس وبه وايي ضعيفان (کشران تابعان) هغو کسانو ته چې سرکشان (او مشران متبوعان وو): بېشکه وو مونږ تاسې ته تابعان، پس آيا اوس يئ تاسې (ای متبوعانو !) دفع کوونکي له مونږ څخه کومه برخه له اوره (د دوزخ).

تفسير: يعنې په دنيا کې مو پر مونږ خپل اطاعت او اتباع کوله، چې د هغه لامله مونږ نيولي شوي يو، اوس دلته خو مونږ ته څه ګټه او نفع راورسوئ !، آخر مشرانو ته لازم دي چې د خپلو کشرانو لږ خبر او احوال واخلي، آيا ګورئ چې نن مونږ په څرنګه سخت عذاب او مصيبت کې اخته يو؟، آيا ستاسې له لاسه نه دي پوره چې له دغو مصائبو کومه برخه له مونږ څخه لرې او سپکه کړئ؟.

قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُلٌّ فِيهَا إِنَّ اللَّهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ الْعِبَادِ ﴿۴۸﴾

وايي هغه کسان چې تکبّر يې کړی وو (سرکش او متبوع وو چې څنګه به دفع کوو عذاب): بېشکه مونږ ټول په دوزخ کې يو، بېشکه الله په تحقيق حکم کړی دی په منځ د بندګانو کې (داسې چې هر څوک يې خپلو خپلو هغو ځايونو ته چې له دوی سره وړ (مستحق) او لايق وو؛ ولېږل، مستحقان د جنت، جنت ته، او لايقان د دوزخ دوزخ ته).

تفسير: يعنې هغه کسان چې خپل ځانونه يې په دنيا کې لوی ګڼل، اوس داسې ځواب ورکوي چې مونږ او تاسې دواړه په دغه مصيبت کې اخته او مبتلا يو، الله تعالى ځمونږ د هر يوه په نسبت سم د مونږ له جرمه سره خپله فيصله اورولې ده، چې د ده دغه صادر حکم بيخي قاطع او لا يتغيّر دی، او د دغې خبرې موقع نه ده پاتې چې يو د بل په کار ورشي، کله چې مونږ خپل درونده مصيبت نشو سپکولی؛ نو بيا به تاسې ته څه ګټه دررسولی شو؟.

وَقَالَ الَّذِينَ فِي النَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ادْعُوا رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِنَ الْعَذَابِ ﴿۴۹﴾

او وبه وايي هغه کسان (چې پراته دي) په اور کې خزانچيانو متصرفانو د دوزخ ته چې: دعاء وکړئ (ځمونږ لپاره) رب خپل ته چې سپک کړي له مونږه يوه ورځ له عذابه (چې لږ څخه په ارام شو).

تفسير: يعنې کله چې له خپلو دغو مشرانو څخه بې هيلې او مايوس شي؛ نو له هغو پرښتو څخه به داسې غوښتنه کوي چې د دوزخ په انتظام مسلطې دي، چې خير تاسې خپل رب ته ووايئ چې اقلا د يوې ورځې له مخې خو ځمونږ په دغه عذاب کې څه تقليل، تخفيف او تعطيل وفرمايي، څو مونږ لږ څه په ارام شو.

قَالُوا أَوَلَمْ تَكُ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ ۖ قَالُوا بَلَىٰ ۚ قَالُوا فَادْعُوا ۗ وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ ﴿۵۰﴾

وبه وايي (متصرّفان د دوزخ دوزخيانو ته) آيا نه وو راغلي تاسې ته رسولان ستاسې په دلائلو ښکاره وو؟ وايي: (ولې نه وو راغلي) بلکه راغلي وو، نو وبه وايي (متصرّفان د دوزخ) پس وبولئ تاسې (پخپله الله)، او نه ده دعاء د کافرانو مګر په ګمراهۍ کې (چې هيڅ فائده ورته نه رسوي).

تفسير: يعنې په هغه وخت کې مو د هغه خبره ونه منله، او د انجام فکر مو ونه کړ چې په هغه سره څه ګټه تاسې ته دررسېده، اوس مو موقع له لاسه وتلې ده، اوس په هيڅ ډول سعي، کوښښ سره څه کار نشي کېدی، اوس همدلته پراته اوسئ !، او په ژړا او انګولا سره اوقات تېروئ !، او راز راز عذابونه ګالئ !.

إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا

بېشکه چې مونږ خامخا مدد کوو له رسولانو خپلو سره، او (مدد کوو له) هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی دی په ژوندانه لږ خسيس کې (په حجّت او په ظفر او په انتقام له اعداوو د دوی).

تفسير: يعنې په دنيا کې د مرسلانو خبرو ته وقعت او وقار ورکوي، او د هر مقصد لپاره چې انبياء الله ودريږي؛ د الله تعالى په امداد او نصرت سره په هغه کې مظفر او کامياب کيږي، په علمي حيثيت او په حجّت او برهان سره خو تل

دوی فائزان او بریالیان دي، لیکن مادي فتحه او ظاهري عزت او رفعت هم بالآخر د همدوی په برخه کیږي، الله تعالی د خپلو رسولانو او مؤمنانو سره د دې وعده کړېده چې هم په دنیا او هم په آخرت کې به یې کامیاب او بریالي لري، په دنیا کې یې بریالیتوب په حجّت او دلیل کې او هم په مادي لحاظ سره وي، او په آخرت کې یې بریالیتوب جنت ته داخلېدل او د اور څخه نجات موندل دي، لیکن واضح دې وي چې هغه وعده چې په دغه آیت کې له مؤمنینو سره کړی شوې ده؛ په هغه تقدیر سره ایفاء او انجام مومي چې مؤمنین هم په حقیقي اوصافو سره مؤمنین او د سید المرسلین صحیح متبعین وي: ﴿وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ (د آل عمران سورت (۱۴) رکوع (۱۳۹) آیت) د مؤمنینو خصال په پاک قرآن کې ځای په ځای مذکور دي، ښایي چې هر مسلمان د خپل ایمان او ایقان زر د دغه محک په تیږه (ګټه) ومږي، او د هغه حسن او قبحه سره او ناسره ځانته معلوم کړي !.

وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ ﴿۵۱﴾

او په هغه ورځ چې وبه دریږي شاهدان (له ملائکو، انبیاوو، مؤمنانو پر منکرانو باندې).

تفسیر: یعنې د حشر په میدان کې کله چې اولین او آخرین ګرد سره ټولیږي، حق سبحانه وتعالی پخپل فضل علی رؤوس الأشهاد د دوی سرفرازي عزت او رفعت ښکاره کوي، په دنیا کې لږ څه شبهه پاتې کیږي او التباس هم واقع کیږي، لیکن هلته به لږ څه ابهام او التباس هم باقي نه پاتې کیږي.

يَوْمَ لَا يَنفَعُ الظَّالِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ ﴿۵۲﴾

په هغې ورځې کې به هیڅ نفع نه رسوي ظالمانو ته معذرت عذرونه د دوی، او شته دوی ته لعنت لرېوالی له رحمته، او شته دوی ته ناکاره کور (د دوزخ).

تفسیر: یعنې له دوی سره به هیڅ مدد او مرسته او لاس نیوی نه کیږي، د مقبولینو په مقابل کې یې دغه د مطرودینو انجام بیان وفرمایه.

وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْهُدَىٰ وَأَوْرَثْنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ الْكِتَابَ ﴿۵۳﴾ هُدًى وَذِكْرَىٰ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿۵۴﴾

او خامخا په تحقیق ورکړی وو مونږ موسی ته هدایت (تورات)، او په میراث مو ورکړ بني اسرائیل اولادې د یعقوب ته کتاب (د تورات). په دې حال کې چې هدایت سمه لاره ښوونکی وو او ذکر پند (او پوهه) وو لپاره د خاوندانو د خالصو عقلونو.

تفسیر: یعنې په دنیا کې وګوره چې فرعون او د ده قوم سره د دومره زور او قوّت د الله تعالی د دښمنی له سببه څرنګه سپېره هلاک او برباد شول، او د موسی علیه السلام په لار ښوونه د بني اسرائیلو مظلوم او کمزور قوم څنګه ترقي او وداني وموندله؟ او د دغه عظیم الشأن کتاب (تورات) وارث وګرځاوه شو، چې د دنیا د عقلاوو لپاره یې د هدایت د ډیوې په شان کار ورکوو.

فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ ﴿۵۵﴾

پس صبر وکړه (ای محمده ! په ایذاء د کفارو) بېشکه چې وعده د الله حقه ده (په نصرت د انبیاوو، په اهلاک د اعداوو)، او مغفرت وغواړه لپاره د ګناه خپل (له الله)، او تسبیح وایه سره

له ثناء د رب خپل هم په آخره د ورځې کې او (هم) په اوله د ورځې کې (يعنې تل تسبيح تحميد وايه).

تفسير: يعنې اى محمده ! تاسې هم ډاډه او متسلي اوسئ، هغه وعده چې له تاسې سره کړى شوې ده؛ هغه هرومرو پوره کېدونکې ده، الله قدّوس په دواړو دارينو کې تاسې او ستاسې ګردو متبعينو ته عزّت او سرلوړي عطاء فرمايي، ولې دغه خبره ضروري ده چې د الله تعالى د خوښې او رضا حاصلولو لپاره پر هر قسم شدائدو او نوائبو صبر وکړئ، او له هر چا څخه په هره درجه چې د تقصير امکان وي؛ له الله تعالى څخه د هغه ښښنه او معافي وغواړئ !، او همېشه سبا او بېګا د خپل د رب تسبيح او تحميد قولاً او فعلاً ورد او عادت ولرئ !، په ظاهر او باطن کې د الله تعالى له يادې غافل نشئ، بيا د الله تعالى امداد او مرسته (مدد) يقيني ده، په دغه سره يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک مخاطب ګرځولى دي، او بالوسيله ګرد امت محمدي ته يې اوروي.

إِنَّ الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ اللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَانٍ أَتَاهُمْ ۙ إِنْ فِي صُدُورِهِمْ إِلَّا كِبْرٌ مَّا هُم بِبَالِغِيهِ ۚ

بېشکه هغه کسان چې مجادله جګړه کوي په (بطلان) د آيتونو د الله بې له کوم برهان علمي سنده چې راغلى وي دوى ته؛ (بله هيڅ خبره نشته !) بېشکه چې نه ده په سينو د دوى کې مګر کبر او سرکښي ده چې نه دي دوى رسېدونکي هغه (بُرهان) ته.

تفسير: يعنې هغه کسان چې خامخا د الله تعالى د توحيد په دلائلو او په اسماني کتابونو او د انبياء الله په معجزاتو او هداياتو کې خامخا جګړې او مناقشې کوي، او بې سنده خبرې وايي، او د حق غږ بې اثره ګرځوي او بطلان يې غواړي، حال دا چې د دوى په لاس کوم حُجّت دليل او بُرهان هم نشته، او نه في الواقع په هغو ښکاره وو شيانو کې د څه شک او شبهې موقع شته، او يوائې تکبّر، غرور، لويي د دغې خبرې مانع ده چې حق ته غاړه کېږدي، او د نبي متابعت وکړي، دوى ډېر خپل ځان لوى او پورته ګڼي، او غواړي چې له نبي څخه پورته وي يا اقلاً د نبي په مخ کې خپل سرونه ښکته نه کړي، ليکن په ياد يې ولرئ ! چې دوى له سره په دغه مقصد کې برى نه مومي، او هرومرو مجبور دي چې د نبي په مخکې د اطاعت سر ښکته کړي، که نه ډېر سخت ذليل او رسوا کيدونکي دي.

فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ ۖ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴿٥٦﴾

پس پناه ونيسه په الله پورې (له شره د دوى)، بېشکه دغه (الله) همدى دى ښه اورېدونکى (د اقوالو) ښه ليدونکى (د افعالو؛ نو جزاء به ورکړي دوى ته).

تفسير: يعنې له الله تعالى څخه پناه وغواړه !، چې هغه د دغو مجادلينو له دغو خيالاتو څخه نجات درکړي، او د دوى له شره دې وساتي، وروسته له دې نه د ځينو هغو مسائلو تحقيق دى چې په هغو کې خلق سره جګړې کوي، مثلاً بعث بعد الموت وروسته له مرګه بيا ژوندي راپاڅېدل چې دغه امر دوى محال ګڼي يا د الله تعالى له توحيده يې انکار کوو.

لَخَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٧﴾

خامخا پيدا کول د اسمانونو او د ځمکې ډېر لوى دي له پيدا ينته د خلقو، وليکن اکثر د خلقو نه پوهيږي (په اسانى د دغه دويم پيدا ينت لکه د اول).

تفسير: يعنې ظاهرًا له مادي حيثيته د اسمان او د ځمکې د عظمت او جسامت په مخکښې د انسان حقيقت څه دى؟ حال دا چې دغه خبره مشرکين هم مني چې داسمان او د ځمکې پيدا کوونکى هم هغه واحد قدوس الله دى، بيا هغه لوى

ذات چې د دغومره لويو مخلوقاتو پيدا کوونکی وي؛ آيا هغه ته د انسانانو اول ځلي يا دويم ځلي پيدا کول کوم سخت يا مشکل کار دی؟ د تعجب ځای دی چې پر دغسې غټو غټو خبرو هم ډېر خلق نه پوهيږي.

وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَلَا الْمُسِيءُ ۚ قَلِيلًا مَّا تَتَذَكَّرُونَ ﴿۵۸﴾

او نه سره برابريږي (يو) رڼوند (غافل جاهل) او بل کتونکی (ذاکر ـ عالم) او (همداسې نه برابريږي سره) هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، او کړي يې دي ښه (عملونه) او نه هغه چې بدکار دي، ډېر لږ پند اخلئ تاسې (ای خلقو).

تفسير: يعنې يو داسې رڼوند چې د حق سمه صافه لاره نشي ليدلی، او يو ليدونکی چې په نهايت بصيرت سره صراط المستقيم کتلی شي، او پري پوهيږي؛ آيا دواړه سره برابر کېدی شي؟ يا د يوه نيکو کار مؤمن او د بدکار کافر انجام سره يو شانې کېدی شي؟ که داسې نه وي؛ نو ضرور دي چې يوه داسې ورځ به وي چې د دغو دواړو په منځ کې به فرق او تفاوت ښکاره شي، او د دغو دواړو د علمونو او د عملونو د ثمراتو نتائج په ډېر اکمل صورت سره ظاهر او ښکاره شي، مګر افسوس چې تاسې دومره هم نه پوهيږئ؟.

إِنَّ السَّاعَةَ لَآتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿۵۹﴾ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ

بېشکه چې قيامت خامخا راتلونکی دی، نشته هيڅ شک په (راتللو د) دغه (قيامت) کې، وليکن زياتره د خلقو ايمان نه راوړي (په قيامت او تصديق يې نه کوي). او فرمايي رب ستاسې (ای بندګانو ځما !) تاسې وبولئ ما چې قبلوم تاسې ته (دعاء ستاسې).

تفسير: يعنې ماته عبادت وکړئ ! چې د هغه بدل او جزاء به درکړم، او له ما ځخه وغواړئ ! چې ستاسې دغه غوښتنه به توی او تشه نه ځي.

إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴿۶۰﴾

بېشکه هغه کسان چې تکبّر (سرکښي) کوي له عبادت ځخه ځما؛ ژر ده چې ننه به وځي دوی په دوزخ کې په دې حال کې چې خوار او سپک وي.

تفسير: د بندګی شرط له الله تعالی ځخه غوښتنه ده، نه غوښتل تکبّر او غرور دی، او له دې آيت ځخه معلوميږي چې الله تعالی ته د بندګانو غږ او دعاء وررسيږي، دغه خبره خو بېشکه برحقه ده، مګر د دې مطلب داسې نه دی چې د هر بنده هر دعاء قبلوي، يا ښايي چې قبوله يې کړي، يعنې هر هغه شی چې غواړي؛ هم هغه شی ورته ورکړي، نه ! د ده د دعا اجابت ځو اقسامه او انواع لري، چې په احاديثو کې بيان کړی شوی دی، د کوم شي ورکړه او عطاء د الله تعالی پر مشيت موقوفه او د ده د حکمت تابع ده، لکه څنګه د «الأنعام» سورت په (۴) رکوع (۴۱) آيت کې يې فرمايلي دي: ﴿فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ إِن شَاءَ﴾ په هر حال د بندګانو کار د الله تعالی له درباره هم دغه غوښتنه ده، او دغه غوښتنه في حدّ ذاته يو عبادت دی.

اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ

الله هغه (ذات) دی چې ګرځولي يې ده تاسې ته شپه لپاره د دې چې ارامي وکړئ تاسې په هغې کې، او (ګرځولې يې ده) ورځ لیدلو ته.

تفسیر: د شپې په مستریحه یخه او تیاره فضاء او د هوسایۍ او د راحت په هوا کې ټول خلق د استراحت خوب کوي، هر کله چې ورځ شي؛ نو په نوي نشاط او تازه قوّت سره پاځیږي، او د لمر په رڼا کې پخپلو کارو او چارو کې بوخت او لګیا کیږي، په دغه وخت کې د تګ او راتګ لیدل کار کول او د نورو اعمالو لپاره مصنوعي رڼا بیخي ضرورت نه وي.

إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٦١﴾

بېشکه الله خامخا څښتن د فضل دی پر انسانانو، ولیکن زیاتري د انسانانو شُکر نه وباسي (په دغو نعماوو د الله).

تفسیر: یعنې د حقیقي منعم پېژندل هم دغه وو چې په قول او فعل او په ځان او زړه يې شُکر اداء کولی، خو ډېر خلق د شکر ایستلو په ځای شرک اختیاروي.

ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٦٢﴾

دغه (ذات) تاسې ته (وایم): الله دی، رب پالونکی ستاسې چې خالق پیدا کوونکی د هر څیز دی، نشته هیڅوک لایق د عبادت مګر همدی دی یواځې، پس کوم طرف ته ګرځولی شوي یئ تاسې (له عبادت د ده).

تفسیر: یعنې د شپې او د ورځې نعمتونه د الله تعالی له طرفه منئ، نو ښایي چې بندګي هم همغه ته وکړئ !، وروسته د دغه مقام له رسېدلو بیا تاسې ولې بې لارې کیږئ، چې حقیقي مالک یو ذات وي او عبادت وکړی شي د بل چا؟.

كَذَٰلِكَ يُؤْفَكُ الَّذِينَ كَانُوا بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٦٣﴾ اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ قَرَارًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ ۚ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ ۖ فَتَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٦٤﴾

همداسې ګرځولی کیږي (له حقه) هغه کسان چې وو له آیتونو د الله به يې انکار کوو. الله هغه (ذات) دی چې ګرځولې يې ده تاسې ته ځمکه ځای د قرار (چې پرې ګزران او معاش کوئ)، او (ګرځولی يې ده تاسې ته) اسمان چت (د قُبې په شان)، او صورتونه يې ترلې دي ستاسې پس ډېر ښایسته يې جوړ کړه صورتونه ستاسې، او روزي يې درکړې ده تاسې ته له طیباتو پاکیزه وو (لذتناکو شیانو)، دغه (خالق، مصوّر، رازق) الله دی رب پالونکی ستاسې، پس ډېر برکتي (ډېر پورته دی شان) دی الله چې رب پالونکی د ټولو عالمیانو دی.

تفسیر: یعنې له ګردو ساکښانو څخه د انسان صورت ښه، بهتر، او ښکلی او د ده روزي يې پاکه صافه ګرځولې ده.

هُوَ الْحَيُّ

هم دی ژوندی دی، تل په یو حال باقي قایم تدبیر والا.

تفسير: چې له هيڅ يوه حيثيته او جهته له سره فناء او موت نه پرې طاري کيږي، او نه طاري کېدی شي، او ظاهر دی کله چې د الله تعالی حيات ذاتي او دائمي دی؛ نو د ده د حيات ځکه (ټول) لوازم ذاتي او دائمي وي.

لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ۗ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَٰلَمِينَ ﴿٦٥﴾

نشته بل هيڅوک لايق د عبادت مګر همدی دی، پس يواځې وبولئ همدی په دې حال چې خالص کوونکي يئ تاسې خاص دغه (الله) لره (د) دين (له شرکه)، ټوله ثناء ده خاص الله لره چې رب پالونکی د ټولو عالميانو دی.

تفسير: يعنې ځکه چې کمالات، محامد، محاسن، د حيات د وجود تابع دي، هغه چې على الاطلاق حي دی، همدی د عبادت وړ او مستحق دی، او د ځکه چې (ټولو) کمالاتو مالک دی، ځکه چې په ﴿هُوَ الْحَيُّ﴾ پسې وروسته يې ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَٰلَمِينَ﴾ وفرمايل.

قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ لَمَّا جَآءَنِيَ الْبَيِّنَٰتُ مِنْ رَبِّي وَأُمِرْتُ أَنْ أُسْلِمَ لِرَبِّ الْعَٰلَمِينَ ﴿٦٦﴾

ووايه (ای محمده دوی ته) بېشکه زه منع کړی شوی يم له دې نه چې عبادت وکړم د هغو (بُتانو) چې بولئ يې تاسې غير له الله کله چې راغلل ماته بېکاره دليلونه (د توحيد) له (جانبه د) رب پالونکي ځما، او امر حکم کړی شوی دی پر ما چې غاړه کېږدم رب پالونکي د (تمامو) عالميانو ته.

تفسير: يعنې هر کله چې ماته صفا او بېکاره دلائل راکړی شوي دي، نو د دې ځخه منع شوی يم چې د غير الله عبادت وکړم، بلکه يواځې د عالميانو د پالونکي په عبادت مأمور شوی يم.

هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ

الله هغه (ذات) دی چې يې پيدا کړی دی (نيکه) ستاسې له خاورو نه.

تفسير: يعنې ستاسې پلار آدم، يا تاسې مو په داسې شان له خاورو ځخه پيدا کړئ، هغه نطفه چې تاسې ترې پيدا کېږئ؛ د هغو مأکولاتو او مشروباتو خلاصه ده چې له ځمکې ځخه پيدا کيږي.

ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ

بيا يې (پيدا کړه اولاده د آدم) له نطفې (اوبو د مني) بيا له کلکې ټوټې د وينو.

تفسير: يعنې بني آدم اصلاً د اوبو له ځاځکي د مني له قطرې ځخه مخلوق دي، چې وروسته ترلې وينه کيږي، او د حيات نور مدارج پرې کوي.

ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا أَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُونُوا شُيُوخًا ۚ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبْلُ وَلِتَبْلُغُوٓا أَجَلًا مُّسَمًّى

بيا راوباسي تاسې (له ارحامو د ميندو) اطفال واړه (بيا تربيت کوي ستاسې) لپاره د دې چې ورسېږئ تاسې منتها د قوت خپل ته، بيا (ژوندي ساتي تاسې) لپاره د دې چې شئ تاسې زاړه (بې

قوته، بې مجاله)، او ځینې له تاسې هغه دي چې مړه کولی شي پخوا له دې (بلوغه)، او (ساتي مو) لپاره د دې چې ورسېږئ تاسې تر هغې نېټې معلومې پورې (چې وخت د مرګ دی).

تفسیر: یعنې له وړوکیتوبه ځلمي کېږئ، او له ځلمیتوبه زوړتوب ته رسېږئ، او ځینې سړي پخوا له ځلمیتوبه یا زوړتوبه مري، په هر حال ګرد تر یوه ټاکلي معیّن میعاد او لیکلې شوې وعدې پورې رسېږي، له موت او حشر څخه هیڅوک نه دي خلاص، او نه ترې مستثنی کېدی شي: ﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ * وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ﴾.

وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾

او لپاره د دې چې تاسې د عقل څخه کار واخلئ (په دلائلو د وحدانیت او قدرت د الله، او په بعث بعد الموت).

تفسیر: شاه صاحب (رحمه الله) لیکي: «یعنې ښه فکر او دقّت وکړئ !، چې دومره احوال او ادوار پر تاسې تېر شوي دي، ممکن چې یو بل حال او دوره هم پر تاسې تېره شي، چې وروسته له مرګه بیا ژوندي راپاڅېدل دي، نو هغه تاسې ولې مشکل او محال ګڼئ»؟.

هُوَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ ۖ فَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٦٨﴾

(الله) هم هغه (ذات) دی چې ژوندي کول کوي، او مړه کول کوي، پس هر کله چې اراده حکم وکړي د یوه کار؛ پس بېشکه همدا خبره ده چې وایي ورته چې (موجود) شه پس هغه موجود شي (بې له مهلته).

تفسیر: یعنې د ده کامل قدرت او د «کن فیکون» د شان په مقابل دغه څه سختي او اشکال لري چې وروسته له مرګه مو بیا ژوندي کړي؟.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ اللَّهِ ۖ أَنَّىٰ يُصْرَفُونَ ﴿٦٩﴾ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِالْكِتَابِ وَبِمَا أَرْسَلْنَا بِهِ رُسُلَنَا ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٧٠﴾ إِذِ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلَاسِلُ ۚ

آیا نه وینې ته هغه کسان چې مجادله جګړه کوي په آیتونو (قرآن) د الله کې، پس کوم طرف ته ګرځولی شي دوی له تصدیقه د هغو. هغه (کسان) چې تکذیب یې کړی دی په دغه کتاب (قرآن)، او په هغو (شیانو) چې رالیږلي مو دي په هغو سره رسولان (پخواني) خپل، پس ژر ده چې پوه به شي دوی (چې د دغه تکذیب بده نتیجه څه کیږي؟). کله چې وي به (د اور) غاړې کې په غاړو د دوی کې، او ځنځیرونه به هم وي (په پښو د دوی).

تفسیر: د ځنځیر یو سر به په غاړه پورې ننښتی وي، او بل سر به یې د پرښتو په لاسو کې وي، او په دغه ډول دوی د مجرمانو او قیدیانو په شان راوستل کیږي.

يُسْحَبُونَ ﴿٧١﴾ فِي الْحَمِيمِ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُونَ ﴿٧٢﴾

چې راښکلی کیږي به دوی. په اوبو ډېرو تودو کې، بیا به په اور (د دوزخ) کې سوځولی وریتولی شي دوی.

تفسير: يعنې په دوزخ کې به کله په ايشېدلو ډېرو سوځوونکيو اوبو سره او کله به په اور سره عذاب ورکول کيږي (أعاذنا الله منهما).

ثُمَّ قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٧٣﴾ مِنْ دُونِ اللَّهِ

بيا به وويل شي دوی ته چې چېرته دي هغه (معبودان) چې وئ تاسې چې شريکول به مو (له الله سره په عبادت کې). بغير له الله (چې اوس خلاص کړي تاسې له عذابه)؟.

تفسير: يعنې په دغه وخت به له دوی څخه هيڅ يو په کار نه ورځي، که مو له لاسه پوره وي او توانېږئ؛ نو هغوی خپل مدد ته راوبولئ !.

قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا

نو وبه وايي (کفّار) چې: ورک شول له مونږ څخه (هغه معبودان څمونږ).

تفسير: يعنې له مونږ څخه خطا او ورک او مونږ تري تېر شو، ښايي په دغه وخت کې به عابدين او معبودين سره ببلولی شي، يا به د ﴿قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا﴾ مطلب داسې وي چې: اګر که موجود دي، مګر کله چې له دوی نه کومه فائده نه رسيږي، نو د دوی وجود او عدم سره برابر دي.

بَلْ لَمْ نَكُنْ نَدْعُو مِنْ قَبْلُ شَيْئًا

بلکه ګويا نه وو مونږ چې بلل به مو (په عبادت سره دغه معبودان) پخوا له دې نه هيڅ شی.

تفسير: اکثرو مفسرينو د دې مطلب داسې اخيستی دی، په دنيا کې مونږ هغو کسانو ته چې بلنه کوله؛ اوس رابنکاره شوه چې هغوی په واقع کې هيڅ شی نه وو.

كَذَٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ الْكَافِرِينَ ﴿٧٤﴾

همداسې (په شان د دغو مجادلانو) ګمراهان کوي الله کافران (چې سمه لاره به نه مومي).

تفسير: يعنې لکه چې دلته له ډېر انکار کولو څخه وښوييدل او وويرېدل، او داسې اقرار يې وکړ، په دنيا کې هم د همدغو کفّارو هم دغه حال وو.

ذَٰلِكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَفْرَحُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَمْرَحُونَ ﴿٧٥﴾

دغه (ګمراهي او عذاب) تاسې ته په سبب د هغه دی چې وئ تاسې چې خوشالي به مو کوله په ځمکه کې په ناحقه سره، او په سبب د هغه چې وئ تاسې چې تکبّر به مو کولو په ناحقه سره.

تفسير: يعنې ومو ليد چې د ناحق غرور، تکبر او لويي آخره خاتمه او عاقبت داسې کيږي، اوس مو هغه لويي او ښودنه چېرې لاړه؟ او بيا وبه ويل شي دغو منکرينو ته د الله تعالى له جانبه داسې چې:

ادْخُلُوا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ

ننوځئ تاسې په دروازو د دوزخ کې.

تفسير: يعنې هر قسم مجرم په هم هغه وره کې ننوځئ چې د دوی لپاره ټاکلی او مقرّر کړی شوی دی.

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۷۶﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ فَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ﴿۷۷﴾

په دې حال چې همېشه پاتې کېدونکي اوسئ په دغه (دوزخ) کې، پس ناکاره ځای د متکبّرانو دی. پس صبر و کړه (ای محمده ! په ضرر د کفّارو)، بېشکه چې وعده د الله (په نصرت د اولیاوو او اهلاک د اشقیاوو) حقه ده، پس که وښیو مونږ تاته ځینې د هغه عذاب چې وعده یې کوو مونږ له هغوی سره؛ (نو ډېر ښه ده !)، یا قبض کړو مونږ تا پس خاص مونږ ته بیا بېرته راوستلی شي دوی.

تفسير: يعنې الله تعالى ده ته د عذاب ورکولو کومه وعده چې فرمایلې وه؛ هغه یقیناً پوره او ایفاء کیدونکې ده، ممکن دي چې ځینې مواعید د رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک په حیات کې په سر ورسېږي، لکه چې د بدر او معظمې مکې فتح او نور فتوحات، یا د دوی له وفاته وروسته، په هر حال دوی له مونږ څخه خپل ځانونه نشي ژغورلی، او نه یې چېرې ایستلی شي.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ مِنْهُمْ مَّنْ قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ۗ

او خامخا په تحقیق لېږلي وو مونږ رسولان پخوا له تانه چې ځینې له هغوی هغه انبیاء دي چې قصې د هغو کړي دي مونږ تاته، او ځینې له دغو هغه انبیاء دي چې قصې نه دي کړي مونږ تاته.

تفسير: يعنې د ځینو انبیاوو تفصیلي حال یې تاسې ته بیان کړی دی، او د ځینو یې نه دی کړی، او امکان لري چې د دې آیت له نزوله وروسته یې د هغوی تفصیلي حال هم بیان کړی وي، په هر حال د هغو رسولانو نومونه چې معلوم دي؛ پر هغو باندې تفصیلاً او پر هغو چې نوم او نور حالات یې نه دي معلوم؛ اجمالاً ایمان راوړل ضروري دي: ﴿لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ﴾.

وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ

او نه وو هیڅ رسول ته (او نه یې مقدور وو) دا چې راوړي کومه یوه معجزه مګر په اذن حکم د الله سره.

تفسير: يعنې د الله تعالى په مخکښې ټول سره عاجزان دي، رسولانو ته هم د دې خبرې واک او اختیار نشته، چې هر معجزه چې د دوی زړه وغواړي؛ هم هغه معجزه ور وښیي، دوی یواځې هم هغه معجزات ښوولی شي چې د هغې د ښوونې اجازت د رب العزّت له طرفه دوی ته شوی وي.

فَاِذَا جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ قُضِيَ بِالْحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۷۸﴾

پس هر کله چې راغی امر حکم د الله؛ فیصله به وکړه شي په حقه سره، او زیان به وکړي هلته باطلوونکي (د حق دروغجن شمېرونکي).

تفسير: يعنې څه وخت چې د الله تعالى حکم رسېږي، د رسولانو او د دوی د اقوامو په منځ کې په عدل او انصاف سره حکم فیصله صادریږي، په دغه وخت کې رسولان کامیاب او فائز المرام کیږي، او د باطلو منونکیو په برخه پرته له ذلّته او رسوایی بل هیڅ شی نه رسېږي، او حکمت په نه واقع کېدلو د دغو کې دا دی چې:

اَللّٰهُ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَنْعَامَ لِتَرْكَبُوْا مِنْهَا وَمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۷۹﴾ وَلَكُمْ فِیْهَا مَنَافِعُ وَلِتَبْلُغُوْا عَلَیْهَا حَاجَةً فِیْ صُدُوْرِكُمْ

الله هغه (ذات) دی چې پیدا کړي یې دي تاسې ته چارپایان لپاره د دې چې سورېږئ پر ځینو د دوی، او له ځینو د دوی خورئ تاسې. او دي تاسې لره په دغو چارپایانو کې ډېرې نفعې، او لپاره د دې چې ورسېږئ تاسې په دوی سره هغه حاجت ته چې په سینو (زړونو) ستاسې کې وي.

تفسیر: مثلاً د دوی له پوستکي، څرمنې، وړیو، ویښتانو، او نورو څخه راز راز فائدې اخلئ، پر دوی باندې سورلي پخپل ځای کې یو مقصد دی، او د سورلۍ په وسیله انسان ډېر دیني او دنیوي مقاصد حاصلولی شي.

وَعَلَیْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ﴿۸۰﴾

او پر دغو چارپایانو (په بر کې) او پر بېړۍ (په بحر کې) سورول کېږئ تاسې.

تفسیر: یعنې په وچه کې د ځاروو پر شا، او په سیند کې پر بېړیو سواره ګرځئ، او مال او اسباب مو هم پرې باروئ.

وَیُرِیْكُمْ اٰیٰتِهٖ ۫ فَاَیَّ اٰیٰتِ اللّٰهِ تُنْكِرُوْنَ ﴿۸۱﴾

او ښیي تاسې ته دلائل خپل، پس له کوم یوه له دلائلو د الله ځخه انکار کوئ تاسې.

تفسیر: یعنې سره د دومره ښکاره وو دلائلو له لیدلو بیا انسان تر کوم حد او اندازې پورې پخپل شک او انکار کې ټینګ ولاړ دی، لا نه دي معلوم چې الله تعالی د خپل قدرت څومره نورې نښې او دلائل هم ورښیي؟.

اَفَلَمْ یَسِیْرُوْا فِی الْاَرْضِ فَیَنْظُرُوْا كَیْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَانُوْۤا اَكْثَرَ مِنْهُمْ وَاَشَدَّ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِی الْاَرْضِ فَمَاۤ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا یَكْسِبُوْنَ ﴿۸۲﴾

آیا پس نه دي ګرځېدلي دوی په ځمکه کې، پس چې وګوري دوی چې څرنګه شو عاقبت آخره خاتمه د هغو کسانو چې پخوا له دوی نه (تېر شوي) وو، چې وو هغوی ډېر زیات له دغو (کفّارو) څخه، او ډېر سخت وو په (بدني) قوّت او (مدني) آثارو په ځمکه کې، پس هیڅ دفع ونه کړه له دوی نه هغو (اعمالو) چې وو هغوی چې کسب او پیدا کول به یې (چې اموال او رجال او نور وو).

تفسیر: یعنې پخوا له دې نه ډېر داسې اقوام تېر شوي دي، چې په سړو او ملاتړ، زور او قوت او نورو شیانو کې له دغو موجوده وو کفّارو ځنې ډېر قوي وو، هغوی له دوی ځنې زیاتې او مهمې نښې او یادونې په ځمکه کې پرېښي دي، لیکن څه وخت چې د الله تعالی عذاب ورنازل شو؛ نو هغه زور اوقوت، سامان او وسایل هیڅ د دوی په کار ورنغلل، او سره له هغو سپېره، هلاک او تباه شول.

فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَیِّنٰتِ فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ یَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۸۳﴾

پس هر کله چې رابه غلل دوی ته رسولان د دوی په ښکاره دلائلو؛ نو خوشاله به شو په هغه چې له دوی ځخه به وو له علمه (اخباره پوهنه)، او چاپېر (محیط منعکس) شو پر دوی هغه (عذاب) چې وو به دوی چې په هغه پورې به یې مسخرې کولې.

تفسير: کوم علوم او فنون چې له هغوی سره وو، او پر هغو غلطو عقيدو چې دوی خپل زړونه تړلي وو، او پر هغو به يې تکبر، تفاخر او لويي کوله، او د انبياوو عليهم السلام علومو او هدايا تو ته به يې په سپکه کتل، او په تحقير به يې ليدل، او پرې ټوکې او مسخرې به يې کولې؛ بالآخر داسې يو وخت راغی چې هغوی ته د خپلو هم هغو ټوکو او ملنډو نتيجه او حقيقت پخپله ورښکاره شو، او د هغه تمسخر او استهزاء مورد خپله همدوی وګرځېدل.

فَلَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهٖ مُشْرِكِيْنَ ﴿۸۴﴾

پس هر کله چې وبه ليد دوی (په دُنيا کې) سخت عذاب ځمونږ؛ نو وبه يې ويل: ايمان مو راوړی دی په الله يواځې، او کافران شو مونږ پر هغو څيزونو چې وو مونږ په سبب د هغه څيز مشرکان (چې باطل معبودان دي).

تفسير: يعنې څه وخت چې دوی له عذاب سره مخامخ شول، او د الله تعالی د عذاب معاينه يې وکړه؛ نو د ايمان راوړلو او توبه ايستلو په فکر کې ولوېدل، او وروسته له هغه په دې وپوهېدل چې يواځې د واحد الله په لطف او مرحمت سره کار چلېدی شي، هغو شيانو ته چې مونږ د معبوديت درجه ورکړې وه؛ هغه ګرد عاجزان وو، او مونږ ډېر احمقان او جاهلان وو چې داسې چټې او بېکاره شيان مو د الوهيت پر تخت کښېنولي وو.

فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ اِيْمَانُهُمْ لَمَّا رَاَوْا بَأْسَنَا ؕ

پس نه وو (دا کار) چې نفع ورسوي دوی ته ايمان د دوی هر کله چې وبه ليد دوی سخت عذاب ځمونږ.

تفسير: يعنې اوس افسوس او ارمان او د تقصير له اقراره او اعترافه هيڅ يوه فائده نه ورورسيږي، د ايمان او د توبې وخت تېر شوی دی، د عذاب له ليدلو څخه خو هر يوه سړي ته بې اختياره يقين او باور پيدا کيږي، مګر دغسې يقين د نجات موجب نشي کېدی، او نه د داسې يقين په واسطه نازل شوی عذاب منع کېدی شي.

سُنَّتَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ فِيْ عِبَادِهٖ ۚ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۵﴾

(طريقه ايښې ده الله) طريقه د الله هغه چې په تحقيق تېره شوې ده په بندګانو د دغه (الله)، او زيان کاره شول په دغه ځای کې کافران (چې ښکاره شو هغه متمادي خسران د دوی).

تفسير: يعنې دغه وضعيت له پخوا راهيسې تل دوام لري، چې خلق ړومبی د انکار او استهزاء له لارې وړاندې کيږي، بيا هر کله چې په عذاب کې اخته او مبتلا شي؛ نو شورماشور لګوي، او پر خپلو اغلاطو اعتراف کوي، د الله تعالی دا عادت دی چې ناوخته توبه نه قبلوي، بالآخر منکرين د خپلو جرائمو په بدل سپېره، خراب او بربادېږي.

تمّت سورة المؤمن، ولله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ حٰمٓ السَّجۡدَة

«د (حٰمٓ السجدة) سورت مکي دی، (۵۴) آیته او (۶) رکوع لري، په تلاوت کې (۴۱) او په نزول کې (۶۱) سورت دی، وروسته د (المؤمن) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنۡزِيۡلٌ مِّنَ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ﴿۲﴾

(دغه قرآن) رالېږلی شوی دی له (هغه الله) چې خورا (ډېر) مهربان ډېر رحم کوونکی دی.

تفسیر: یعنې د الله ډېره زیاته مهرباني او رحمت پر خپلو بندګانو دی، چې د دوی د هدایت لپاره یې داسې عظیم الشأن او بېمثاله کتاب نازل فرمایلی دی.

كِتٰبٌ فُصِّلَتۡ اٰيٰتُهٗ

داسې کتاب دی چې په تفصیل سره بیان شوي دي آیتونه د ده.

تفسیر: په لفظي ډول سره د آیتونو بېل بېل توب خو ښکاره دی، مګر له معنوي حیثیته هم د سلهاوو اقسامو علومو او مضامینو تفصیل په بېلو بېلو آیتونو کې ورکړی شوی دی.

قُرۡاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوۡمٍ يَّعۡلَمُوۡنَ ﴿۳﴾

په دې حال چې لوستلی شوی دی په عربي ژبه لپاره د هغه قوم چې پوهیږي.

تفسیر: یعنې عظیم الشأن قرآن په اعلی درجې صافې عربي ژبې نازل کړی شوی دی، چې د ده د رومبنیو مخاطبینو مورنۍ ژبه وه، څو هغو خلقو ته د ده په پوهېدلو کې څه تکلیف ورپېښ نشي، او دوی ژر او ښه پرې وپوهیږي، او بیا نور انسانان هم پرې په ښه شان سره وپوهوي، مګر سره له هغه دغه خبره هم ظاهره ده چې هم هغه خلق له دغه قرآن څخه منتفع او ګټور کېدی شي؛ چې د عقل او پوهې خاوندان وي، ناپوه او جاهل خلق د دغه عظمی نعمت څه قدر او عزت کولی شي؟.

بَشِيۡرًا وَّنَذِيۡرًا

زېری ورکوونکی دی (دا کتاب مؤمنانو ته په جنت) او ویروونکی دی (دا کتاب کفّارو لره له دوزخ).

تفسیر: یعنې دغه پاک قرآن خپلو منونکیو ته د نجات او فلاح زېری اوروي، او منکرینو ته د دوی له بده انجامه وېره ورکوي.

فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿۴﴾

پس مخ وګرځاوه زياترو د دغو (کفارو) پس دوی نه اوري (حق په اوربدلو د قبول سره).

تفسير: يعنې سره له دغو ګردو خبرو تعجّب دی، چې له دوی نه ډېر کسان د دې کتاب دغه ډېر قيمت لرونکيو پندونو او نصائحو ته غور او دقّت نه کوي، کله چې دې ته بيخي د دوی فکر نشته؛ نو ولې به يې اوري؟ او فرض يې کړئ که دوی دغه قرآن پخپلو غوږونو سره هم واوري، ليکن د زړه په غوږونو سره يې نه اوري، او د ده د منلو او قبلولو توفيق نه ورحاصلوي، نو د دوی دغه اوربدل د نه اوربدلو په شان دي.

وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ مِمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ وَفِي آذَانِنَا وَقْرٌ وَمِنْ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ إِنَّنَا عَامِلُونَ ﴿۵﴾

او وايي (دغه کفّار محمد ته) زړونه مو په پردو کې دي له (فهمه) د هغه څيزه چې بولې ته مونږ هغه ته (چې توحيد يا قرآن دی)، او په غوږونو ځمونږ کې دروندوالی دی (چې نه اورو وينا ستا)، او په منځ ځمونږ او په منځ ستاسې کې پرده (د مخالفت) ده، نو عمل وکړه ته (پر دين خپل) بېشکه مونږ هم عمل کوونکي يو (پر دين خپل).

تفسير: دوی به دا ويل چې: ستا د دعوت په وجه زړونه مو په غلافونو او پردو کې پټ دي، او غوږونه مو درانه دي، او ستا او ځمونږ په منځ کې پرده حائل ده، چې مونږ او تاسو سره بيلوي، نو ته خپل کار کوه، او مونږ به خپل کار کوو، ستا خبرې پر مونږ تأثير نه کوي.

قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ فَاسْتَقِيمُوا إِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوهُ

ووايه (ای محمده ! دوی ته) بېشکه همدا خبره ده زه يو بشر انسان يم په شان ستاسې، (ليکن فرق مې دا دی چې) وحي کيږي ماته (له طرفه د رب ځما) داسې چې بېشکه همدا خبره ده چې معبود ستاسې معبود يو دی، پس سم مستقيم ورځئ ده ته (په توحيد)، او مغفرت وغواړئ له ده نه !.

تفسير: يعنې نه زه معبود او الله يم چې په زور سره ستاسې زړونه واړولی شم، او نه هغه پرښته يم چې د هغې د رالېږلو غوښتنه تاسې کوئ، او نه کوم بل مخلوق يم، بلکه ستاسې له نوعې او له جنسه يو انسان يم چې ځما خبره پوهېدل ستاسې د همجنسۍ له سببه تاسو ته اسان دي، او هغه انسان يم چې د الله تعالی له جانبه آخري او د خورا اکملې وحي لپاره غوره شوی يم، بناء عليه هومره چې تاسې له هغه څخه مخ واړوئ؛ زه خامخا د پاک الله پيغام تاسې ته اوروم، ما ته د وحي په وسيله دا ښوولي شوي دي چې ستاسې ټولو معبود يو دی، چې ماسوا له هغه بل هيڅوک د عبادت لايق نه دی، لهذا پر ټولو لازم دي چې په ګردو احوالو کې سم د هم هغه واحد الله تعالی په طرف مخ وګرځوي، او د ده د سمې صافې لارې څخه يوه خاشه دېخوا او هغې خوا ته لاړ نشي، او هغه بې لارې او کاږه تلل چې پخوا له دې نه ستاسې څخه صادر شوي دي؛ د هغو معافي د الله تعالی له درباره وغواړئ، چې پاک الله ګرد ړومبني او وروستني ګناهونه دروبښي.

وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِينَ ﴿۶﴾ الَّذِينَ لَا يُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ ﴿۷﴾

او افسوس هلاک خرابي ده لپاره د مشرکانو. هغه چې نه ورکوي زکات (يا نه کوي هغه کار چې پرې پاکيږي)، او دوی پر آخرت (حساب کتاب ثواب عقاب) همدوی کافران منکران دي.

تفسير: د هغو خلقو معامله چې له الله تعالى سره داسې وي چې عاجز مخلوق د ده په عبادت کې شريکوي، او له بندګانو سره داسې وي چې د صدقې او زکات پيسې پر کوم فقير او محتاج نه لګوي، او نه غواړي چې مساکين پرې خوشاله شي، او ورسره له آخرته او انجامه هم بيخي بېفکره او غافل دي، ځکه چې دوی له سره دغه خبره نه مني چې له مړينې ځخه وروسته بل کوم ژوندون، حساب، کتاب، ثواب او عقاب شته، د دغسې خلقو مستقبل ماسوا له اهلاکه خرابی بربادی او سپکتيا بل شی نه دی.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٨﴾

بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه) شته؛ دوی ته اجر چې نه دی قطع کېدونکی.

تفسير: يعنې هيڅکله به نه منقطع کيږي، او تر أبد الآباده پورې به جاري وي، کله چې جنت ته ورسيږي؛ نه به دوی او نه به د دوی ثواب فناء او انقطاع مومي.

قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِي خَلَقَ الْأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُ أَندَادًا ۚ ذَٰلِكَ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٩﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) آيا بېشکه تاسې خامخا کافران کېږئ په هغه الله چې پيدا کړې يې ده ځمکه په دوو ورځو کې، او ګرځوئ له خپل ځانه (دغه الله) ته شريکان؟ دغه ذات (چې ځمکه يې په دوو ورځو کې پيدا کړې ده) رب د عالميانو دی.

تفسير: يعنې څومره د حيرت او د تعجّب ځای دی چې د «رب العالمين» د وحدانيت او کمالیه صفاتو ځخه انکار کوئ، او نور داسې شيان له هغه سره برابروئ چې د يوې ذرې په اندازه هم د کار او اختيار مالکان نه دي.

وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِن فَوْقِهَا وَبَارَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا

او پيدا کړي دي (الله) په دغه (ځمکه) کې درانه کلک محکم غرونه د پاسه د دې نه، او بيا يې برکت کېښود په دغه (ځمکه يا غرونو) کې، او مقرره (په اندازه) کړې يې ده په دې ځمکه کې روزي (د اهل) د دې.

تفسير: «او بيا يې برکت کېښود په دغه ځمکه يا غرونو کې» يعنې قسم قسم کانونه، ونې، مېوې، ثمرات، غلې، دانې او حيوانات او نور له ځمکې ځخه وځي، «او مقرره او په اندازه کړې يې ده په دې ځمکه کې روزي د اهل د دې»، يعنې پر ځمکه باندې يې د هستېدونکو خواړه په يوې خاصې اندازې او حکمت سره په ځمکه کې کېښودل، لکه چې د هر اقليم او د هر ملک د هستېدونکو له طبايعو او له ضروريا‌تو سره يې موافق خواړه مهيّأ او تهيه فرمايلي دي، او الله أكرم شأنه وأعظم برهانه پيدا کړه ځمکه، غرونه او نور او مقدر يې کړل اوقات:

فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ ۖ سَوَاءً لِّلسَّائِلِينَ ﴿١٠﴾

په څلورو ورځو کې، برابر دي لپاره د پوښتنې کوونکيو (له پيدا کولو د ځمکې او د ما فيها).

تفسير: يعنې ګرد کارونه په څلورو ورځو کې وشول، په دوو ورځو کې ځمکه پيدا کړی شوه، او په دوو نورو ورځو کې د دوی د نورو متعلقاتو بندوبست وشو، هر څوک چې پوښتنه کوي يا د پوښتنې کولو اراده لري؛ هغو ته دغه

وروښيه ! چې دغه ټول په څلورو ورځو کې بې له تزييده او تنقيصه په وجود راغلي دي، شاه صاحب (رحمه الله تعالى) ليکي: «يعنې د پوښتنې کوونکيو ځواب پوره شو».

تنبيه: دلته له ورځو ځنې په ظاهري صورت سره همدغه معروفې او متبادرې ورځې نشي مراد کېدی، ځکه چې د ځمکې او د لمر او د نورو موجوداتو له وجوده پخوا د هغه وجود له سره نه دی متصور، لا محاله له دغو څلورو ورځو څخه به د هغو مقدار مراد وي، يا به هغه ورځې ترې مراد وي چې د هغو په نسبت يې فرمايلي دي: ﴿وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ﴾ (۱۷ جزء د الحج سورت (۶) رکوع (۴۷) آيت ځمونږ د دغه مقدس تفسير) والله أعلم.

ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ

بيا اوچت شو اسمان ته حال دا چې دغه اسمان يو لوګی وو (ولاړ).

تفسير: يعنې بيا د اسمانونو په طرف اوچت شو، چې په دغه وخت کې دوی ګرد سره يو وو د يوه لوګي په شان؛ نو هغوی يې سره تقسيم کړل، او په اوو اسمانونو سره يې وويشل، لکه چې وروسته له دې نه يې ذکر رائي.

تنبيه: ممکن دي له «دخان» څخه د اسمانونو د مادې په طرف اشاره وي.

فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ ﴿۱۱﴾

پس وفرمايل (الله) دغه (اسمان) ته، او (دغې) ځمکې ته چې راشئ دواړه پخپلې خوښې سره، يا په زور سره، وويل اسمان او ځمکې: راځو مونږ (فرمان ستا ته) په خوښۍ سره.

تفسير: يعنې اراده يې وفرمايله چې د دغو دواړو اسمان او ځمکې له يو ځای کېدو څخه دنيا ودانه کړي، اعم له دې نه چې دوی دواړه پخپل طبيعت سره يو ځای شي که په زور سره، په هر حال د دواړو له يو ځای کولو سره يې دغه نظام جوړول مقصود وو، او دغه دواړه سره يو ځای شول، پخپل طبيعت له اسمان د لمر اشعې راغلې، او تودوخې پيدا شوې، هواوې جاري شوې، د هغو دوړې او بخار پاس پورته شو، بيا له هغه څخه اوبه تويېدې، او د باران په صورت وورېدې، چې د هغو په وسيله راز راز شيان پيدا شول، او پخوا يې فرمايلي وو چې: «په ځمکه کې يې د دوی خوراکونه کېښودل»، يعنې په ځمکه کې يې داسې قابليت کېښود چې دغسې شيان ترې پيدا کيږي.

فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ فِي يَوْمَيْنِ

پس مقرر جوړ کړل (الله لوګي ځنې) اووه اسمانونه په دوو ورځو کې.

تفسير: يعنې څلور ورځې هغه وې، او په دوو ورځو کې يې اسمانونه پيدا کړل، چې ګردې (ټولې) سره شپږ ورځې شوې، لکه چې په بل ځای کې د ﴿سِتَّةِ أَيَّامٍ﴾ تصريح شته.

تنبيه: په هغو مرفوعه احاديثو کې چې د کائناتو د تخليق په متعلق د ورځو تعيين او ترتيب راغلی دی، چې هغه دغه شيان الله تعالى د هفتې په دغو او هغو ورځو کې پيدا کړي دي؛ په هغو کې کوم يو صحيح حديث تر اوسه پورې په نظر نه دی راغلی، حتى چې د ابو هريره رضي الله تعالى عنه د حديث په متعلق چې په صحيح مسلم کې دی؛ «ابن کثير» ليکي: «هو من غرائب الصحيح، وقد علّله البخاري في التاريخ، فقال: رواه بعضهم عن أبي هريرة عن كعب الأحبار، وهو الأصح» «يعنې دا حديث امام بخاري په خپل تاريخ کې معلول کړی دی، او ويلي يې دي: ځينو دغه حديث له ابوهريره رضي الله عنه څخه چې هغه له کعب بن الأحبار نه روايت کړی دی، او همدغه روايت أصحّ دی»، يعنې حديث د اسرائيلياتو له جملې څخه دی، د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په صحيح سند سره ثابت نه دی.

وَأَوْحَىٰ فِي كُلِّ سَمَاءٍ أَمْرَهَا

او ويې لېږه (مقرر يې کړ) په هر اسمان کې کار (مناسب تدبير) د هغه (اسمان).

تفسير: يعنې هر هغه حکم چې د هر اسمان لپاره مناسب وو، شاه صاحب (رحمه الله تعالى) ليکي: «دغه رب ته معلوم دي چې هلته څه قسم مخلوق اوسيږي؟ او د دوی اسلوب وضعيت، او هيئت څرنګه دی؟ په دغه ځمکه کې چې په زرهاوو کارخانې دي؛ نو آيا دومره لوی اسمانونه به څرنګه تش پراته وي».

وَزَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ وَحِفْظًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ﴿١٢﴾

او ښايسته کړی مو دی دغه اسمان نژدې په ډيوو (ستوريو) سره، او (ساتلی دی مونږ دا اسمان) په ساتلو سره (له غوږ کېښودلو د شيطانانو)، دغه (مخلوقات) اندازه کول د الله ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ښه عالم (په هر څيز).

تفسير: يعنې په ليدلو سره داسې معلوميږي چې دغه ګرد ستوري پر همدغه اسمان باندې ختلي دي، د شپې له مخې په دغه قدرتي ډيوو سره اسمان څرنګه ښکلی او ډک له رونقه ښکاري؟ بيا يې څومره محفوظ ګرځولي دي؟ چې د هيڅا لاس او قدرت ورته نه رسيږي، د پرښتو زوروري پيرې ولاړې دي، هيڅ طاقت او قوت پر دغه ټينګ نظام کې څه درځ او چاود نشي غورځولی، ځکه چې هغه د الله تعالى له خوا جوړ او قايم شوی دی، چې له ګردو څخه لوی زبردست او باخبر ذات دی.

فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنْذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ ﴿١٣﴾

پس که چېرې مخ وګرځاوه (دغو کفّارو له حقه)؛ پس ووايه (ای محمده !دوی ته) چې ويروم زه تاسې له سخت عذابه په مثل د سخت عذاب د عاديانو (لکه باد د صرصر) او ثموديانو (لکه چغه د جبريل).

تفسير: يعنې که د معظمې مکې کفارو د داسې عظيم الشأن آيتونو د اورېدلو څخه وروسته بيا هم د نصيحت له قبلولو او د توحيد او د اسلام له لارې د غوره کولو څخه مخ واړوي؛ نو تاسې دوی ته وفرمايئ: «زه تاسې په دغه خبروم چې ستاسې خاتمه هم د «عاد» او «ثمود» او نورو معذبينو اقوامو په شان کيږي».

إِذْ جَاءَتْهُمُ الرُّسُلُ مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ

کله چې راغلل دوی ته رسولان (هود او صالح) له مخې طرفه د دوی (کفّارو)، او وروسته له دوی (کفارو له هر طرفه)، او ويې ويل دوی ته داسې:

تفسير: يعنې له هر طرفه ښايي چې ډېر رسولان به ورغلي وي، مګر مشهور دا دي چې دا رسولان هود او صالح (على نبيّنا وعليهما أفضل الصلاة وأتم التسليم) دي، يا به له ﴿مِّنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ﴾ څخه داسې مراد وي چې: دوی د ماضي او مستقبل پر خبرو وپوهوي، او د ورښوولو او د پند او نصيحت هيڅ جانب او پلو يې پرې نښود.

أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ ۖ قَالُوا لَوْ شَاءَ رَبُّنَا لَأَنْزَلَ مَلَائِكَةً فَإِنَّا بِمَا أُرْسِلْتُمْ بِهِ كَافِرُونَ ﴿١٤﴾

چې مه کوئ عبادت مګر يواځې د الله، وويل (کفارو په ځواب د دوی کې) که اراده فرمايلي وي رب ځمونږ (په لېږلو د رسولانو)؛ نو خامخا ليږلې به يې وی پرښتې، پس بېشکه چې مونږ په هغه څيز چې راليږلي شوي يئ تاسې په هغه سره؛ کافران يو.

تفسير: يعنې د الله رسول څرنګه بشر کېدی شي؟ که الله په واقع سره کوم رسول لېږه؛ نو له اسمانه به يې کومه پرښته لېږلې وه، په هر حال تا پخپل زعم سره کومې خبرې چې د الله تعالى له جانبه راوړې دي؛ مونږ د هغو د منلو لپاره تيار نه يو.

فَاَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوْا فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوْا مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ؕ

پس هر چې عاديان وو پس کبر (لويي) يې غوره کړه په ځمکه کې په ناحقه سره، او وويل دوی: څوک دي زيات سخت له مونږ څخې په قوت کې.

تفسير: ښايي کله چې رسولانو دوی له عذابه ويرولي وي؛ دوی به د هغوی په ځواب کې داسې ويلي وي چې له مونږ څخه زيات زورور او طاقتور بل څوک دي؟ چې مونږ له هغه څه وويريږو؟ آيا ځمونږ په شان پر زورورو انسانانو خپل رعب او وېره کېنولی شي؟.

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَهُمْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ؕ وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿۱۵﴾

آيا نه وينې (او نه پوهېدل) دوی چې بېشکه الله هغه (ذات) چې پيدا کړي يې دي دوی؛ هغه ډېر سخت دی له دوی نه په قوّت زور کې، او دوی وو په دلائلو ځمونږ چې انکار به يې کوو (سره له علمه په دې باندې چې هغه حق دی).

تفسير: يعنې پخپلو زړونو کې د ده پر حقّانيت پوهېدل مګر د ضد او انکار له لوري به يې همداسې معامله کوله.

فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا فِيْۤ اَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيْقَهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ

پس راومو لېږه پر دوی باندې باد يخ ډېر زورور هيبتناک په څو ورځو کې چې ډېرې نحسې شومې وې، لپاره د دې چې وځکوو مونږ پر دغو (کفّارو) عذاب رسوا کوونکی په دغه ژوندون لږ خسيس کې.

تفسير: شاه صاحب (رحمة الله عليه) ليکي: «د دوی د غرور ماتولو لپاره د يوه کمزور مخلوق په وسيله هغوی پناه او سپېره شول، اوه شپې او اته ورځې مسلسل سخته سيلی چلېده، ونې، غنې، انسان، حيوان، ودانی او عمراني شيان يې بيخي له ځمکې څخه يووړل، او هيڅ يو شی يې باقي پرې نښود».

وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَخْزٰى وَهُمْ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۶﴾

او خامخا عذاب د آخرت ډېر رسوا کوونکی دی، حال دا چې له دوی سره به مدد ونه کړ شي (په دفع د عذاب کې).

تفسير: يعنې د آخرت رسوايي خو ډېره لويه ده، چې د هيڅا په منع کولو او مخه نيولو سره نه معطليږي، او نه بېرته اوړي، او نه هلته يو بل ته څه کومک او مدد رسولی شي، له هر سړي سره به د خپل ځان فکر وي، د محبت او مينې او د همدردۍ ډېر مدّعيان به هلته له خپلو دوستانو خپلوانو او مينانو څخه سترګې اړوي، او په پټه او په غلا سره به ورګوري.

وَاَمَّا ثَمُوْدُ فَهَدَيْنٰهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى عَلَى الْهُدٰى

او هر چې ثموديان وو، پس سمه لاره مو وښوولې دوی ته (په لېږلو د رسولانو سره)، پس غوره کړه دوی ړوندوالی (ضلالت) پر هدايت (او رهنمايۍ).

تفسير: يعنې د نجات له هغې لارې څخه چې ځمونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورښوولې وه؛ دوی خپلې سترګې وترلې، او ړوندوالی يې ځانته غوره کړ، بالآخر الله تعالى همدوی د همدوی په خوښه سره په هم هغه حالت پرېښودل.

فَأَخَذَتْهُمْ صٰعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُونِ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿۱۷﴾

پس ونيول دوی لره سختې چغې د عذاب سپکوونکي په سبب د هغه (شرک او عصيان) چې وو دوی چې کول به يې (چې تکذيب د صالح وو).

تفسير: يعنې داسې يوه سخته زلزله راغله چې له هغې سره ډېره سخته چغه هم وه، چې د هغه غږ له شدّته د دوی زهره وچاوده، او د زړونو حرکت يې بند شو.

وَنَجَّيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ﴿۱۸﴾

او نجات مو ورکړ هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی وو، او وو دوی چې پرهېزګاري به يې کوله.

تفسير: يعنې هغه کسان چې ايمان يې راووړ، او له بدۍ څخه يې ځانونه وژغورل؛ الله تعالى دوی ته له عذابه نجات ورکړی دی، او د عذاب د نزول په وخت کې لږ څه صدمه او تود باد هم نه دی وررسېدلی.

وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَاءُ اللَّهِ إِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿۱۹﴾

او (ياده کړه) هغه ورځ چې راټول به کړل شي دښمنان د الله اور (د دوزخ) ته پس دوی به ډلې ډلې کړل شي.

تفسير: يعنې د هر يوه قسم مجرمانو ډلې او جماعتونه به سره ببل ببل وي، او دغه ګرد جماعتونه به يو د بل په انتظار کې جهنّم ته نژدې درول کيږي، بيا چې ټول سره يوځای شي؛ نو روان به کړل شي دوزخ ته.

حَتَّىٰ إِذَا مَا جَاءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ وَجُلُودُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۲۰﴾

تر هغه وخته پورې چې راشي دوی دغه (اور ته) شاهدي به ورکړي پر دوی باندې غوږونه د دوی، او سترګې د دوی او پوستکي (او نور اعضاء) د دوی پر هغو (کارونو) چې وو دوی چې کول به يې.

تفسير: په دنيا کې يې پخپلو غوږونو سره تنزيلي آيتونه واورېدل، او پخپلو سترګو سره يې تکويني آيتونه وليدل، مګر سره له هغه د الله تعالى وحدانيت او د ده د رسول رسالت يې ونه مانه، او په هر حيث او هر جهت د الله تعالى عصيان او نافرماني ته متوجه شول، خو له دې نه بېخبره وو چې د ګناهونو ګرد دفاتر يادداشتونه د همدوی په وجود کې محفوظ او ډک کړی شوي پراته دي، چې په لازمه وخت کې به لولول او اورول کيږي، له روایاتو څخه معلوميږي چې په محشر کې به کفّار له خپلو جرائمو څخه پخپلو ژبو سره انکار کوي، نو په دغه وخت کې به داسې احکام صادريږي چې د دوی د هغو اعضاوو او جوارحو شهادت وړاندې کړ شي چې دوی د هغوی په ذريعه د دغو ګناهونو مرتکب شوي دي، لکه چې ګرد وجود به يې پرې شاهدي ورکوي، او په دې صورت د دوی د هغه اظهار چې پخپلو ژبو سره يې رومبی کړی وو؛ تکذيب کيږي، دلته به دوی حيران او مبهوت او هک پک پاتې کيږي، او خپلو اعضاوو ته به

وايي چې: اى كمبختانو ! لرې او ورک شئ ! ما خو دغه مدافعه ستاسې له وجهى كوله، او جګړې مې ستاسې په ګټه نښلولې وې، حال دا چې تاسې پخپله پخپلو جرائمو اقرار او اعتراف وكړ.

وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ عَلَيْنَا ؕ

او وبه وايي (كفّار په تعجّب سره اعضاوو او) پوستكيو خپلو ته: ولې شاهدي وكړه تاسې پر مونږ؟.

تفسير: دغه منكرين به وايي: كله چې پخپله ژبه سره مونږ داسې انكار كوو؛ نو پر تاسې داسې كوم مصيبت رالوېدلى وو چې خامخا مو په ورښوولو شروع وكړه، او په آخر كې دغه وينا تاسې ته چا دروښوده؟.

قَالُوْٓا اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْطَقَ كُلَّ شَيْءٍ

نو وبه وايي (دغه پوستكى دوى ته چې مونږ پخپله نه يو غږيدلي، بلكه) غږولي يو مونږ الله هغه ذات چې غږولى يى دى هر څيز.

تفسير: د هغه لوى ذات قدرت هر ناطق ته د وينا قوّت وربښلى دى، نن ورځ هم هغه لوى ذات مونږ ته هم د وينا قوّت او قدرت راكړ، نو كه مو خبرې نه كولې، او شيان مو نه وى ښوولي؛ نو څه شى به مو كړي وى، كله چې د هغه مطلق قادر اراده وشي چې يو شى خبرې وكړي؛ نو كوم شى توانيږي او قدرت او مجال لري چې وينا ونه كړي؟ هغه لوى ذات چې ژبې ته يې د وينا قوّت او قدرت وربخښلى دى، آيا همدغه قوّت لاسو او پښو او د بدن نورو اندامونو ته نه شي بښلى؟ نو دغه دى چې مونږ هم د الله تعالى په اراده دغسې شهادت اداء كړ.

وَّهُوَ خَلَقَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۱﴾

حال دا چې الله پيدا كړي يئ تاسې اول ځلې، او خاص همدغه الله ته بېرته بيولى شئ (مجازاتو ته).

تفسير: دغه مقوله يا خو د الله تعالى ده، يا خو د پوستكو ده، دواړه محتملې دي.

وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ اَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُوْدُكُمْ

او نه وئ تاسې (په وخت د كولو د دغو فواحشو داسې) چې پټول به مو (دغه فواحش له وېرې د دې) چې شاهدي به وركړي پر تاسې غوږونه ستاسې، او نه سترګې ستاسې، او نه پوستكي ستاسې (ځكه چې د خپلو اعضاوو په شهادت مو باور نه درلود ـ لرلو).

تفسير: يعنې له نورو ځنې په پټه سره مو ګناه كوله، او له دې نه نه وئ خبر چې ستاسې لاسونه او پښې به ستاسې هغه مخفي اعمال څرګندوي (ښكاره كوي)، ښايي چې تاسې هغه ګناه له دغو اندامونو څخه هم پټه كړي وى، حال دا چې تاسو همداسې كول هم غوښتل، دغه مو له قدرته او واكه نه وو پوره.

وَلٰكِنْ ظَنَنْتُمْ اَنَّ اللّٰهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۲﴾

وليكن ګمان به كوو تاسې د دې چې بېشكه الله نه دى عالم پر ډېرو له هغو كارونو چې كول به تاسو.

وَذٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِيْ ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ اَرْدٰىكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۲۳﴾ فَاِنْ يَّصْبِرُوْا فَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۚ وَاِنْ يَّسْتَعْتِبُوْا فَمَا هُمْ مِّنَ الْمُعْتَبِيْنَ ﴿۲۴﴾

او دغه (فاسد ګمان) ستاسې هغه ګمان ستاسې دی چې کوو به تاسې دغه (ګمان) په رب خپل، هلاک کړي یئ تاسې (دغه ګمان په آخرت کې) پس نن وګرځېدئ تاسې له زیانکارانو څخه. پس که صبر وکړي دوی (په دې عذاب یا یې ونه کړي) پس اور (د دوزخ) ځای د هستوګنې دی دوی ته، او که رضا د الله (او قبول د توبې یا رجوع دنیا ته) غواړي دوی؛ پس نه به وي دوی له قبول کړی شویو (په طلب د رضا د الله).

تفسیر: شاه صاحب (رحمة الله علیه) لیکي: «یعنې په دنیا کې ځینې بلاء په صبر سره اسانېږي، هلته که صبر وکړي یا یې ونه کړي؛ دوزخ د دوی لپاره کور مقرّر کړی شوی دی، چې له هغه ځایه له سره نشي وتلی، ځینې بلاء دلته په منّت خوشامند او تملّق سره لرې کېدونکې دي، ولې هلته دغه شیان له سره مفید نه واقع کیږي، او هومره زاري خواري او عاجزي چې وکړي؛ نه قبلیږي، او نه یې په درد خوري».

وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ فَزَيَّنُوْا لَهُمْ مَّا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ

او مقرر کړي مو دي دوی ته ملګري (له شیاطینو)، پس ښایسته کړي یې دي دوی ته هغه ځیزونه چې وړاندې له دوی دي او هغه ځیزونه چې وروسته له دوی دي (له هوا او هوس او انکار د آخرت).

تفسیر: یعنې پر دوی باندې یو یو شیطان مقرر شوی دی، څو دوی ته خراب کارونه چې پخوا یې کړي وو، یا وروسته له دې نه یې کوي؛ ښه وروښیي، او د دنیا تباه کوونکی ماضي او مستقبل هغوی ته ښه او ښکلی وربښکاره کړي، او د دغو شیاطینو تقرّر هم د دوی د اعراض عن الذکر نتیجه وه، لکه څنګه چې الله جل جلاله په (۲۵ جزء د الزخرف سورت په (۴) رکوع (۳۶) آیت کې فرمایلي دي): ﴿وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ﴾.

وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۚ

او ثابته شوې ده پر دوی خبره (د عذاب) په هغو امّتونو کې چې په تحقیق تېر شوي دي پخوا له دوی نه له پیریانو او له انسانانو.

تفسیر: یعنې هم هغه خبره چې د دوی په نسبت په ابتداء کې فرمایلې شوې ده: ﴿لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ﴾ (۱۲ جزء د هود سورت (۱۰) رکوع، (۱۱۹) آیت څمونږ د دغه مقدس تفسیر).

اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۲۵﴾

بېشکه چې دوی وو زیانکاران (په دواړو جهانونو کې).

تفسیر: کله چې انسان ته خساره واقع کیږي؛ نو همداسې سامان ورمهیأ کیږي.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ﴿۲۶﴾

او وایي هغه کسان چې کافران شوي دي چې غوږ مه ږدئ تاسې دغه قرآن ته (چې محمد یې لولي)، او شورماشور واچوئ په (وخت د لوستلو د) ده کې، ښایي چې تاسې غالب شئ (پرې او له تبلیغه یې ساکت کړئ).

تفسير: يعني د عظيم الشأن قرآن غږ د برق په شان د اورېدونکيو پر زړونو اثر غورځوي، او هر څوک يې چې اوري سخت تأثير پرې کوي؛ نو ځکه د دغه تأثير دانسداد لپاره کفّارو دغه يوه طريقه ځانته غوره کړېده، هر کله چې قرآن لوستلی کيږي؛ دوی غوږ ورته نه نيسي، او دومره شورماشور اچوي چې نور يې هم وانه وريږدی شي، او داسې به يې ګنډل چې ځمونږ په دغه شورماشور سره د قرآن غږ پورته نشي، او پر خلقو خپل تأثير ونه غورځوي، نن ورځ هم جاهلان همداسې تدابير کوي، چې د کار د خبرو په مقابل کې شورماشور کوي، څو بل څوک يې وانه وري، مګر د حقانيت او صداقت کړنګهار او تنهار کله د مياشو او مچانو په بنهار پت او مغلوبېدی شي؟ او سره له دغسې تدابيرو هم د حق غږ د زړونو تر ژورو پورې رسيږي، او هم هغه هلته خپل اثر غورځوي.

فَلَنُذِيقَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا عَذَابًا شَدِيدًا وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَسْوَأَ الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۲۷﴾

(فرمايي الله تعالى چې) پس خامخا وبه څکوو مونږ هرومرو هغو کسانو ته چې کافران شوي دي عذاب سخت، او خامخا جزاء به ورکړو مونږ هرومرو دوی ته ډېره بده سزا د هغو اعمالو چې وو دوی چې کول به يې.

ذَٰلِكَ جَزَاءُ أَعْدَاءِ اللَّهِ النَّارُ ۖ لَهُمْ فِيهَا دَارُ الْخُلْدِ ۖ جَزَاءً بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ ﴿۲۸﴾

دغه (سخت عذاب) جزاء ده د دښمنانو د الله (يعني) چې اور دی، شته دوی ته په دغه اور کې کور د همېشه والي (لپاره د جزاء) په جزاء ورکولو په سبب د هغه چې وو دوی (په دنيا کې) چې په آيتونو ځمونږ (قرآن) انکار به يې کوو.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا رَبَّنَا أَرِنَا الَّذَيْنِ أَضَلَّانَا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ أَقْدَامِنَا لِيَكُونَا مِنَ الْأَسْفَلِينَ ﴿۲۹﴾

او وبه وايي (په اور کې) هغه کسان چې کافران شوي دي ای ربه ځمونږ ! وښيه مونږ ته هغه (دوه تنه) چې ګمراهان کړي يې وو مونږ له پيريانو او له انسانانو چې وګرځوو (واچوو) دوی لاندې د قدمونو خپلو لپاره د دې چې شي دوی له ښکته (سپکو ذليلانو خلقو څخه).

تفسير: يعني خير مونږ خو په آفت کې اخته شوو، ليکن له انسانانو او پيريانو ځنې هغه شياطين چې ځمونږ د ګمراه کولو او د غولولو سبب ګرځيدلي دي، او مونږ د دوی له لاسه په دغه مصيبت کې مبتلا شوي يو، له مونږ سره يې مخامخ کړئ، څو يې مونږ تر خپلو پښو لاندې ذرې ذرې او لتاړ کړو، او په نهايت ذلّت او خواری سره يې د دوزخ په ډېرې ښکتنۍ طبقې کې وغورځوو، او په دغه ډول خپل انتقام ترې واخلو، او لږ څه خپل زړونه پرې ساړه کړو.

إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿۳۰﴾

بېشکه هغه کسان چې ويلي يې دي صدقًا له زړه چې رب ځمونږ الله دی، بيا ټينګ ولاړ وي (په دغه توحيد او نورو اعمالو د دين)؛ رانازليږي به پر دوی پرښتې (د سا ختلو په وخت او په قبر کې چې داسې به وايي) مه ويرېږئ او مه خپه کېږئ او خوشاله اوسئ تاسې په جنت هغه چې وئ تاسې چې وعده يې درسره کړی شوې ده (په ژبې د انبياء الله سره).

تفسیر: یعنې په زړه سره یې اقرار وکړ او په هغه قائم پاتې شو، او د الله تعالی په ربوبیت او الوهیت کې یې بل څوک شریک ونه درواه، او نه له دغه یقین او اقرار څخه د مړ‌ک تر لحظې پورې وانه وښته، او نه یې خپل رنګ بدل کړ، هر هغه شی یې چې په ژبه سره ویلي وو، د هم هغه پر مقتضاء عملاً او اعتقاداً ټینګ پاتې شو، او د الله تعالی د کامل ربوبیت حق یې په پوره ډول سره وپېژاند، او هر هغه عمل یې چې وکړ خاص د ده د خوښې او شکرګزارۍ لپاره یې وکړ، د خپل رب ټول عائد کړي حقوق او فرائض یې په ښه شان وپېژندل، او په ښه ډول سره یې اداء او په ځای یې راوړل، الغرض له ماسوا الله څخه یې مخ واړاوه، او یواځې د هم هغه په جانب متوجه شو، او د هم ده پر سمه صافه لاره رهي (روان) شو، پر داسې مستقیم الحال بندګانو د مړ‌ک په وخت او د قبر د رسېدلو په فرصت او وروسته له هغه د بیا ژوندي راپاڅېدلو په وخت کې پرښتې نازلیږي، او دوی ته تسکین، تسلي ورکوي، او د جنت د دخول زېرۍ وراوروي، او ورته وایي چې: اوس تاسې ته لـه هیڅ جهته د وېرې او د اندېښنې موقع نه ده پاتې، د فاني دنیا ټول فکرونه او غمونه ختم شوي دي، او د بل کوم راتلونکي آفت او مصیبت اندېښنه نه ده پاتې، اوس په ابدي ډول هر قسم جسماني او روحاني خوښي او عیش تاسې لره دی، او د جنّت هغه مواعد چې د انبیاء علیهم السلام په ژبو له تاسې سره کړی شوي وو؛ هغه ګرد اوس له تاسې سره ایفاء کیدونکي دي، دا هغه دولت او نعمت دی چې د هغه د رارسېدلو د یقین له حاصلېدو څخه وروسته هیڅ یو غم او فکر د انسان په شاوخوا کې نشي ګرځېدلی.

نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ

(بل داسې ورته وایي ملائکې) مونږ یو دوستان ستاسې په دغه ژوندون لږ خسیس کې (په حفاظت او نصرت) او په آخرت کې (چې به درڅخه لرې کړو وحشت د قبر، او وبه مو رسوو جنّت ته).

تفسیر: ځینو دغه د الله تعالی کلام ښوولی دی، یعنې د پرښتو کلام له دې نه پخوا ختم شوی دی، او د اکثرو په نزد دغه هم د پرښتو مقوله ده، ګواکې پرښتې دغه قول د دوی په زړونو کې الهام کوي، او د دوی حوصله او همّت زیاتوي.

وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ

او شته تاسې ته په دغه جنت کې هغه نعمتونه چې خوښوي یې نفسونه ستاسې، او شته تاسې ته په دغه (جنت) کې (له هغو لذاتو ګراماتو) چې غواړئ یې تاسې.

تفسیر: یعنې د هر شي خواهش، رغبت او هوس چې تاسې پخپلو زړونو کې وکړئ، یا هر هغه شی چې په ژبه سره یې وغواړئ؛ هغه ټول به تاسې ته درکولی کیږي، د الله تعالی په خزانو کې د هیڅ شي کمی او تقلیل نشته.

نُزُلًا مِنْ غَفُورٍ رَحِيمٍ

مېلمستیا ده له (جانبه د الله) چې ښه بښونکي (د خطیاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسیر: یعنې ښه وپوهېږئ چې هغه غفور رحیم به له خپل مېلمه سره څومره ښه سلوک وکړي؟ او دغه څومره یو لوی عزت او توقیر دی، چې یو ضعیف بنده د خپل رب العزت مېلمه شي.

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ

او څوک دی ډېر ښایسته (بلکه نشته) له جهته د وینا له هغه چا چې بولي (خلق) طرف د الله ته، او عمل کوي نېک، او وایي بېشکه زه له مسلمانانو غاړه ایښودونکو د الله تعالی احکامو ته یم.

تفسير: پخوا په ﴿إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا﴾ کې د هغو مخصوصو بندګانو ذکر وو چې هغوی یواځې د یوه الله پر الوهیت خپل اعتقاد ټینګ کړی وو، او د خپل استقامت ثبوت یې ورکړی وو، دلته د هغوی د یوه بل اعلی مقام ذکر فرمایي، یعنې ډېر ښه سړی هغه دی چې خپل ځان پاک الله ته بیخي وسپاري، او د الله تعالی د پوره طاعت او کامل انقیاد اعلان وکړي، او همدغه غوره دین او سمه لاره ځانته اختیاره کړي، او د ده قول او فعل نورو بندګانو ته د الله تعالی په طرف د راتللو لپاره ډېر ښه محرک، مؤثر او سایق شي، او دوی د دنیا نورو خلقو ته هم د الله تعالی په طرف دعوت ورکړي، او د دین په طرف یې جذب او کشش کړي، او د هغې نېکۍ په طرف چې دی خلق رابولي؛ دی پخپله هم پرې عامل وي، او د الله تعالی په نسبت د خپلې بندګۍ او احکام منلو د اعلان په وخت کې هیڅېرې او هیڅکله ونه ویریږي، او نه څه اند ښښنه ورته پیدا شي.

دغه آیت په شان د محمد صلی الله علیه وسلم کې دی، یا مراد ترې صحابه رضي الله تعالی عنهم، یا عالمان، یا محتسبان، یا مؤذنان یا نور هغه څوک دي چې په کې دغه ښه صفات وي.

وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ۚ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ ﴿۳۴﴾

او نه برابریږي سره نیکي او نه بدي (په جزاء اوحسن عاقبت کې)، دفعه کوه (ته هغه بدي) په هغه خصلت سره چې هغه ډېر ښه وي، پس ناڅاپه هغه څوک چې په منځ ستا او په منځ د هغه کې عداوت دښمني وي؛ لکه چې دی به دوست وي ډېر مهربان.

تفسير: په دغو آیتونو کې یوه ربښتین داعي الی الله تعالی ته د هغو ښو اخلاقو تعلیم ورکوي، چې دوی ورته ضرورت لري، یعنې ښه وپوهېږه چې بدي له نېکۍ سره، او نیکي له بدي سره قطعًا نشي برابرېدی، او د دواړو تأثیرات سره بېل دي، بلکه یوه نیکي له بلې نېکۍ سره او یوه بدي له بلې بدۍ سره په اثر او نتیجه کې متمایزې دي، لهذا د یوه قانت مؤمن مخصوصًا د یوه داعي الی الله مسلک ښایي داسې وي چې د بدۍ جواب دې له سره په بدۍ ورنه کړي، بلکه حتی الامکان د بدۍ مقابله دې په نېکۍ سره وکړي، که څوک ورته کومه سخته خبره وکړي یا بده معامله ورسره وکړي؛ نو د هغه په مقابل کې دې دی داسې رویه او د عمل طرز ځان ته غوره کړي چې له هغه څخه بهتر او ښه وي، مثلاً د قهر او غصې په مقابل کې دې له حلم او تحمّل څخه کار واخلي !، او د کنځلو جواب دې په تهذیب او انسانیت سره په دعاء، او د سختۍ جواب دې په نرمۍ او مهربانۍ سره ورکړي، د دغه وضعیت او مسلک له غوره کولو څخه به په نتیجه کې ژر درښکاره شي چې ډېر سخت دښمن به هم ستاسې په مقابل کې نرم او پوست شي، اګر که په زړه او اساسي ډول سره به ستا دوست او خیر غوښتونکی نه ګرځي، خو په ښکاره ډول سره به دې دوست وګرځي، اومتدرّجًا دغه ظاهري دوستي په باطني دوستۍ تبدیل او تحویل مومي، او د دښمنۍ او عداوت ټول خیالات د ده له زړه او افکارو څخه بیخي وځي، کما قال الله تعالی: ﴿عَسَى اللَّهُ أَنْ يَجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِينَ عَادَيْتُمْ مِنْهُمْ مَوَدَّةً﴾ (د الممتحنه سورت (۲) رکوع (۷) آیت (۲۸) جزء).

وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿۳۵﴾

او نه ورکول کیږي دا (نېک خصلت د بدۍ دفع په نېکۍ سره) مګر هغو کسانو ته چې صبر تحمّل کوي، او نه ورکول کیږي دا (نېک خصلت) مګر خاوند د برخې ډېرې لویې ته.

تفسير: یعنې ډېره لویه حوصله په کار ده، چې انسان په هغې سره د بدو خبرو تحمّل وکړی شي، او د هغه مقابله په ښه سره وکړي، دغه ښه اخلاق او اعلی خصلت د الله تعالی له درباره ډېرو ښو او خوش قسمته او اقبالمنو سړیو ته وربښلی کیږي، (ربط) تر دې ځایه پورې د هغه حریف او دښمن سره د معاملې او ښه سلوک ښوونه وه، چې په ښو معاملو او

ښو اخلاقو سره متأثر کېدی شي، لیکن ځنې داسې دښمنان هم پیدا کیږي چې په هیڅ حالت او صورت سره له دښمنۍ ځخه لاس نه اخلي، که څوک ورسره هومره ملاطفت او محبّت وکړي، د هغه شقاوت او عداوت مراتب لا پسې زیاتیږي، او هغه تل په همدغه فکر او ذکر وي چې هرومرو تاته څه ضرر او اذیت درورسوي، نو د داسې پخو شیطانانو له اضرار او ایذاء ځخه د ځان ساتلو تدبیر اوس دغسې الله تعالی بیان فرمایي چې:

وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٣٦﴾

او که ورسیږي تاته له طرفه د شیطان څه تباهي، وسوسه (چې دی واړوي تا له دغه ښه خصلت)؛ پس پناه نیسه په الله (له شره د ده)، بېشکه الله همدی دی ښه اوربدونکی عالم.

تفسیر: یعنې د داسې شیطان په مقابل کې له نرمۍ او عفوې او په تېربدلو سره کار نه چلیږي، یواځې د هغه نه د نجات لپاره یو تدبیر شته چې د الله قدوس جل وأعلی شأنُه وأعظم برهانُه په پناه کې راشئ !، دا هغه مضبوطه کلا ده چې هغې ته له سره شیطان نشي رسېدی.

وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۚ

او ځینې له دلائلو د الله شپه او ورځ ده (چې په یوه کې لباس او په بل کې معاش دی) او (بل ځینې له دلائلو) لمر او سپوږمۍ دي.

تفسیر: له «دعوت الی الله» سره څو سماویه او ارضیه دلائل هم بیان فرمایي، څو په هغو سره «داعي الی الله» ته د الله تعالی دعظمت او وحدانیت او بعث بعد الموت او نورو اهمو مسائلو په پوهولو کې مدد ورسیږي، په دغه ضمن کې دې لوري ته هم اشاره وشوه چې له یوه جانبه د الله تعالی مخصوص بندګان پخپل قول او عمل سره خلق د الله تعالی په طرف رابولي، او له بل جانبه د لمر، قمر، اسمان، ځمکې او د نورو مخلوقاتو عظیم الشأن نظم او نسق، غور او دقّت کوونکو ته د هغه واحد الله په طرف د راتللو دعوت ورکوي.

وفي كل شيئ له آية «((()» تدل على أنه واحد

په هر څیز کې د الله تعالی د قدرت نښه ده چې ددې ښکارندوی ده چې د دې نظام چلونکی یو ذات دي.

لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿٣٧﴾

مه کوئ سجده تاسې لمر ته، او نه سپوږمۍ ته، او سجده کوئ تاسې خاص هغه (الله) ته چې پیدا کړي یې دي دا (څلور علامې) که چېرې یئ تاسې چې خاص همده (الله) ته عبادت کوئ.

تفسیر: د لمر، سپوږمۍ، او د نورو شیانو عبادت کوونکو به هم په ژبه سره همداسې ویل چې: ځمونږ غرض د دغو شیانو له عبادته د پاک الله عبادت دی، مګر پاک الله دغه وښوول چې دغه شیان بیخي د عبادت لیاقت نه لري، د عبادت لایق یواځې واحد الله دی، او د کوم غیر الله عبادت کول د قدوس الله ځخه له بغاوت کولو سره مرادف دي.

فَإِنِ اسْتَكْبَرُوا فَالَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْأَمُونَ ﴿٣٨﴾ السجدة

پس که لویي وکړه دوی (له سجدې د الله؛ نو الله مستغني دی)، پس هغه څوک چې په نزد د رب ستا دي (له پرښتو) تسبیح وایي دغه (الله) ته، هم په شپه کې او هم په ورځ کې، حال دا چې دوی (له دغه تسبیحه او عبادته) نه ستړي کیږي.

تفسير: يعنې که غرور، تکبّر، لويي د حق له قبلولو مانع ده، او د توحيد د دلائلو له وضوح سره د واحد الله د عبادت په جانب نه غواړي چې راشي؛ نو نه دې راځي، دوی خپلو ځانونو ته نقصان رسوي، الله تعالی له سره د دوی پروا نه لري، هغه لوی ذات چې د ده عظمت او جبروت داسې وضعيت لري چې بې حسابه مقرّبين ملائک شپه او ورځ دده په عبادت، تسبيح او تقديس کې داسې مشغول او لګيا دي چې له سره په کې نه خپه، نه ستړي او ستومانيږي، نو د دوی په مقابل کې دغه خواران څه شی دي، دوی په دغو دروغو، تکبّر، او غرور خامخا خپلو ځانونو ته ضرر او نقصان رسوي.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنَّكَ تَرَى الْاَرْضَ خَاشِعَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ؕ اِنَّ الَّذِيْٓ اَحْيَاهَا لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ؕ اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۳۹

او ځينې له دلائلو د دغه (الله) دا دي چې بېشکه ته وينې ځمکه وچه کلکه، پس هر کله چې نازلې کړو مونږ پر دغې (ځمکې) اوبه (د باران)؛ نو سره وخوځيږي، او وپرسيږي (او شنه شي)، بېشکه هغه الله چې ژوندۍ کړی يې ده دا (ځمکه) خامخا ژوندی کوونکی دی د مړيو، بېشکه الله پر هر شي باندې ښه قادر دی (چې ځينې يې همدغه ژوندي کول او مړه کول دي).

تفسير: يعنې ځمکې ته وګورئ چې دغه خواره چپ چاپ، ذليل او سپک تر درانه بار لاندې ده، د وچوالي په وخت کې يې له هرې خوا څخه دوړې او خاورې پورته کيږي، ليکن همدا چې د باران پرخه پرې ولوېده؛ يو ځلي د طراوت، رونق، تازګۍ او نشونما او د ليدلو وړ تحوّلات په کې څرګنديږي، آخر دغه اقلاب د کوم ذات د لاس تصرّف او نتيجه ده؟ هغه الله جل جلاله چې وچې کلکې مړې ځمکې ته يې طراوت، شينوالی او ژوندون وربښلی دی، آيا هغه پر دغه نه دی قدير چې د انسانانو په ابدانو کې بيا روح واچوي؟ او آيا هغه مطلق قادر نشي کولی چې مړو زړونو ته د دعوت الی الله له تأثيره بيا له نوي سره ژوندون او جديد حيات ورعطا کړي؟ بېشکه الله تعالی هر شی کولی شي، او د الله تعالی د قدرت په مقابل کې هيڅ شی مانع او مزاحم نشي کېدی.

اِنَّ الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا ؕ اَفَمَنْ يُّلْقٰى فِي النَّارِ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ يَّاْتِيْٓ اٰمِنًا يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ ۙ اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝۴۰

بېشکه هغه کسان چې ميلان کوي له حقه باطل ته په آيتونو (د قرآن) ځمونږ کې نه دي پټ دوی پر مونږ (نو د دغه الحاد جزاء به ورته ورکړو)، آيا پس هغه څوک چې ورغورځولی شي په اور کې غوره دی، يا هغه څوک چې رابه شي په امن (له عذابه) په ورځ د قيامت کې، (نو تهديداً دوی ته ويلی کيږي چې) کوئ تاسې هر څه چې مو خوښ وي (ای کفّارو)، بېشکه الله پر هغو اعمالو چې کوئ يې تاسې ښه ليدونکی دی (نو جزاء به د اعمالو درکړي).

تفسير: يعنې د الله تعالی په لوري د دعوت کوونکو له ژبو څخه د تنزيلي آيتونو له اوربدلو او د دهر پر قرطاس د تکويني آيتونو له ليدلو څخه هم چې دغه خلق له کږو تللو بېرته نه ګرځي، او په سمو صافو خبرو کې واهي او تباهي شبهات پيدا او ترې کړې وړې خبرې جوړوي، يا يې خامخا سره اړوي رااړوي، او يو غلط مطلب ترې وباسي، يا خوشې چټې بل کوم عذر او بهانه وړاندې کوي، او د آيتونو په منلو کې وړاندې وروسته تحريف او تبديل کوي؛ د داسې کږو تلونکو پر اوضاعو پاک الله ډېر ښه پوهيږي، ممکن دي چې دغه پر خپلو مکاريو او چالاکيو ډېر مغرور وي، مګر له الله تعالی ځنې د دوی هيڅ احوال نه دی پټ، ځخه وخت چې دوی له الله تعالی سره مخامخ ودرول شي، هلته به

دوی وپوهیږي چې في الحال الله تعالی هغوی ته مهلت ورکړی وو، ځکه چې الله تعالی سمدلاسه مجرمین نه نیسي، له همدې جهته وروسته فرمایي: ﴿اِعۡمَلُوۡا مَا شِئۡتُمۡ اِنَّهٗ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ﴾ یعنې ښه دی، څرنګه چې پوهیږئ هم هغسې وکړئ !، مګر ښه وپوهیږئ چې ستاسې ګرد حرکات د پاک الله تعالی تر نظر لاندې دي، او په یوه ورځ د هغه سزا تاسې ته یو ځای پوره درکوي، او بالآخر د هغه تکلیف او زحمت تاسې موندونکي یئ، اوس تاسې پخپله فکر او غور وکړئ، هغه سړی چې د خپلو شرارتونو په علت په ډېر سخت سوځوونکي اور کې ولویږي، او یو بل سړی چې د خپل شرافت او سلامت خوښولو په برکت تل په امنیت او طمأنیت کې اوسیږي، آیا له دغو دواړو څخه کوم یو ښه او بهتر دی؟.

تنبیه: هغه څوک چې د الله په آیتونو کې الحاد کوي، یعنې معناګانې یې بدلوي، تحریف په کې کوي، لکه د الله تعالی د نومونو او صفتونو څخه بدلې معناګانې اخلي، او الله تعالی ته یې په هغه شان او صفت نه ثابتوي چې الله تعالی د ځان لپاره ثابت کړي وي؛ نو هغه هم ددی آیت لاندې راځي.

اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِالذِّكۡرِ لَمَّا جَآءَهُمۡ

بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي په ذکر (قرآن) کله چې راغی دوی ته (نو ژر به په عذابېږي دوی).

تفسیر: یعنې دوی خامخا د خپلو کړو تللو په علت د پند او نصیحت په خبرو کې شبهات پیدا کوي، حال دا چې په هغه کې د دروغو ځای او ګنجایش له سره نشته، هغه ذکر، پند نصیحت څه شی دی؟ یو صاف، واضح، مضبوط او محکم کتاب چې له هغه څخه ماسوا له یوه ناپوه، احمق او شریر انسان بل هیڅوک انکار نشي کولی.

وَاِنَّهٗ لَكِتٰبٌ عَزِيۡزٌ ۝۴۱ لَّا يَاۡتِيۡهِ الۡبَاطِلُ مِنۡۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَلَا مِنۡ خَلۡفِهٖ ؕ تَنۡزِيۡلٌ مِّنۡ حَكِيۡمٍ حَمِيۡدٍ ۝۴۲

حال دا چې بېشکه دغه قرآن خامخا کتاب قوي (نادر) دی. نه راځي دغه قرآن ته باطل (نه) د مخې (له طرفه) د دې، او نه د شا (له طرفه) یې (بوجه من الوجوه)، رالېږلی شوی دی له طرفه د حکمت والا، ثنا ویلي شوي (الله).

تفسیر: یعنې د الله تعالی په رالېږلی شوي کتاب کې که دروغ راغلي دي؛ نو له کوم ځای څخه راغلي دي؟ او دهغه کتاب د ساتلو ذمه چې هغه پخپله په غاړه اخیستې ده؛ نو ناحق او باطل څه قوّت او مجال لري چې د هغه شاوخوا ته ورنژدې شوي دي.

مَا يُقَالُ لَكَ اِلَّا مَا قَدۡ قِيۡلَ لِلرُّسُلِ مِنۡ قَبۡلِكَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ لَذُوۡ مَغۡفِرَةٍ وَّذُوۡ عِقَابٍ اَلِيۡمٍ ۝۴۳

نه ویل کیږي تاته (ای محمده !) مګر (هم هغسې) وینا چې په تحقیق ویلې شوې وه رسولانو ته چې پخوا له تا تېر شوي وو، بېشکه رب ستا خامخا څښتن د مغفرت دی (مؤمنانو لره)، او څښتن د عذاب دردناک دی (کافرانو لره).

تفسیر: یعنې د منکرینو کومه معامله چې له تاسې سره ده؛ همدغه معامله به د هرې زمانې منکرینو له خپلو انبیاوو سره درلوده، انبیاوو به تل د دوی لپاره خیر غوښت، او هغوی به د هغه په مقابل کې هر راز تکالیف او مصائب خپلو انبیاوو ته رسول، بیا هم هغسې چې هغو انبیاوو پر هغو تکلیفونو او سختیو کې صبر او تحمّل کوو؛ تاسې هم پر دغو مصاعبو صبر او تحمّل وکړئ !، په نتیجه کې به ځینې توبه کوي، او پر سمه لاره به راځي چې د دوی لپاره د الله تعالی له جانبه معافي او بښنه ده، او څه نور کسان به پر خپلو هم هغو کړو تللو، ضد او عناد ټینګ او قایم پاتې کیږي، چې بالآخر دوی د دردناکې سزا مستوجب کیږي.

وَلَوْ جَعَلْنٰهُ قُرْاٰنًا اَعْجَمِيًّا لَّقَالُوْا لَوْلَا فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ ؕ ءَاَعْجَمِيٌّ وَّعَرَبِيٌّ ؕ

او که ګرځولی مو وی دغه قرآن په ژبه د عجمو؛ نو خامخا ویلي به وو (دغو د عربو کفّارو) ولې واضح بیان شوي نه دي آیتونه د دې (په ژبې فصیحې عربي دغه قرآن)، آیا عجمي دی، (او نبي یې) عربي دی؟.

تفسیر: یعنې که یوه سړي داسې اراده کړي وي چې یوه خبره نه مني، نو په زړګونو حیلې او بهانې ورته جوړولی شي. د معظمې مکې کفّارو کله چې بل شی ونه مونـد؛ نو پـه داسې ویناوو یې شروع وکړه چې: «صاحبه ! مونږ خو د عربي نبي په معجزې باندې هلته قایل او معترف کیدو، چې دغه قرآن ماسوا له عربي ژبې په بلې کومې ژبې راغلی وی»، لیکن فرض یې کړئ ! که همداسې هم کېدی؛ نو د هغه د دروغجن شمېرلو لپاره به دوی داسې ویل: «ښه صاحبه ! چېرې داسې بې اساسه او بې منطقه خبره به لیدلي شوي وي چې پخپله رسول عربي او د ده قوم چې د دغه کتاب ړومبني مخاطبین دي هم عرب، مګر دغو ته دغسې کتاب رالېږلی شوی دی، چې پر یوه توري یې هم دوی نشي پوهېدی».

قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ ؕ

ووایه ته (ای محمده ! دوی ته) چې دغه قرآن لپاره د هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی هدایت او شفاء دی.

تفسیر: یعنې لغو او چټې (بېکاره) شبهات خو به له سره نه ختمیږي، هو ! دغومره تجربه هر یو سړی کولی شي، هغو کسانو چې پر دغه مقدّس کتاب ایمان راوړی دی او پرې عمل کوي، په څرنګه عجیب هدایت او بصیرت، عقل او پوهې نائل او فائز شوي دي، او د دوی د سلهاوو کلونو او قرنو امراض او رنځوری یې لرې او ورکه کړېده، او له دوی ځنې یې ظاهري او باطني روغ رمټ انسانان جوړ کړي دي.

وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ وَّهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ؕ

او هغه کسان چې ایمان نه راوړي په غوږونو د دوی کې دروندوالی دی، حال دا چې دغه (قرآن) پر دوی باندې ړوندوالی پټوالی دی (نو نه ویني دوی هغه جمال او کمال د ده).

تفسیر: یعنې هم هغسې چې د خفاش (څکالي ـ ښاپېرک) سترګې د لمر په رڼا کې ترلې کیږي، او دی هیڅ یو شی پرې نشي کتلی؛ دغه منکرین هم د قـرآن په رڼا کې رانـده او هیڅ یو رونړ شی نشي لیدلی، نـو پـه دغه کې د قـرآن څه قصور دی؟ منکرینو ته لازم دي چې د خپلو لیدلو دغه ضعف ته ښه ځیر شي، او محسوس یې کړي ! او بیا د هغې معالجې ته متوجه شي !.

اُولٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ ۞

دغه کفار (ګواکې داسې دي لکه چې) غږ ورته کاوه شي له ځایه لرې (او په کیفیت یې نه پوهیږي).

تفسیر: یعنې که یو سړي ته له لرې څخه غږ او نارې وکړې؛ هغه یې نه اوري، او که وایې وري؛ ښه پرې نه پوهیږي، همداسې د قرآن منکرین هم د دغه صداقت او منبع د صداقت څخه دومره لرې لویدلي دي، چې د حق غږ د هغو د زړه غوږو ته له سره نشي رسېدی، او که چېرې هم ورسیږي؛ نو دوی د هغه پر مطلب په ښه شان سره نشي پوهېدی.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ

او خامخا په تحقيق ورکړی وو مونږ موسی ته کتاب (تورات)، پس اختلاف وکړ شو په (تصديق او تکذيب د) هغه کې.

تفسير: يعنې هم هغسې چې نن د «قرآن» د منونکو او نامنونکو په منځ کې اختلاف واقع شوی دی، پخوا له دې نه د (تورات) په متعلق هم همداسې اختلافات واقع شوي وو، بيا وګورئ چې د هغه انجام څرنګه شوی وو؟.

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ

او که چېرې نه وی هغه خبره چې رومبی شوې ده له (طرفه) د رب ستا (چې تأخير د عذاب دی)؛ نو خامخا حکم به کړی شوی وو په منځ د دوی (په دنيا) کې.

تفسير: هم هغه خبره صادره شوې ده چې د دغو ګردو شيانو فيصله په آخرت کې کيږي.

وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿۴۵﴾

او بېشکه چې دغه (دروغ جوړونکي) خامخا په داسې شک کې دي له دې (قرآنه يا له تورات) چې موجب د اضطراب دی.

تفسير: يعنې مهمل شکوک او چتې شبهات دوی ته اطمينان او هوسايي (آرام) نه ورکوي، او تل د دوی په زړونو کې اندېښنې دي.

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۴۶﴾

هر څوک چې وکړي نېک (کار) پس لپاره د ځان خپل يې دی، او هر څوک چې بد کار وکړي؛ پس هغه بار دی په ده، او نه دی رب ستا ظلم کوونکی پر بندګانو (چې بې موجبه يې په عذاب کړي).

تفسير: يعنې د الله تعالى له جانبه ظلم نه کيږي، هر سړی به د خپل عمل بدل مومي، څه چې يې کړي وي؛ هم هغه به يې په مخه ورشي، نه د هيچا نيکي هلته ضايع کيږي، او نه د يوه بدي د بل چا په غاړه کې لويږي، (ربط): کله چې د نېکۍ او بدۍ پوره بدل د قيامت په ورځ ورکول کيږي، او کفارو به على الأكثر دغسې پوښتنې کولې چې قيامت کله راځي؟ نو ځکه د هغه په نسبت اوس داسې ارشاد صادريږي چې:

اِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ ؕ

خاص همدغه (الله) ته واپس کېدی شي علم د قيامت (چې څه وخت به واقع کيږي).

تفسير: يعنې يوائې الله تعالى په دې عالم دی چې قيامت کله راځي؟ ډېر لوی رسول او ستره پرښته هم د قيامت د وخت له تعيينه عاجز او ناتوانه دي، که څوک د قيامت د قيام پوښتنه له دوی نه کوي؛ نو ځواب به يې داسې اوري: «ما المسئول عنها بأعلم من السائل».

وَمَا تَخْرُجُ مِنْ ثَمَرٰتٍ مِّنْ اَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ اُنْثٰى وَلَا تَضَعُ اِلَّا بِعِلْمِهٖ ؕ

او نه راوځي هيڅ قسم له مېوو څخه له غلافو د دوی څخه، او نه اخلي بار هيڅ ښځه (له انسانه او حيوانه) او نه زېږوي بار (حمل) خپل مګر په علم د الله سره.

تفسير: يعنې د الله تعالى علم پر هر شي محيط دی، هيڅ يوه ځُرما له خپل واښکي، او هيڅ يوه دانه له خپل وړي، او هيڅ يوه مېوه او ثمره له خپلې خولې (غلافه) د باندې نه راووځي چې الله تعالى ته هغه نه وي معلوم (بلکه معلوم دي)، د هيڅ يوې ښځې يا د ښځې ساکښ (ذي روح) په ګېډه يا په هګۍ کې به داسې وړوکی مولود او موجود نه وي چې الله تعالى ته هغه نه وي معلوم (بلکه معلوم دي)، او هر هغه چې دوی يې ځېږوي، يا ترې ووځي؛ هغه ګرد د الله تعالى په علم کې شته، همداسې وپوهېږئ چې د دغې موجودې وړې دنيا د نتيجې په ډول د آخرت ظهور او د قيامت وقوع هم هرومرو په عمل راځي، د هغه وخت او نېټه هم همدغه ربّ البريّه ته معلومه او ښکاره ده چې کله راځي؟ هيڅ يو انسان يا پرښته په دې نه دي خبر، او نه دغه ضروري ده چې څوک پرې خبر شي.

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَاءِي

او په هغه ورځ غږ به وکړي (الله) مشرکانو ته چې څه شول شريکان ځما (په زعم د تاسې).

تفسير: يعنې هغه خپل معبودان راوبولئ چې هغو مو ځما په الوهيت کې شريک درولي وو، چې اوس هغوی چېرې دي؟.

قَالُوا آذَنَّاكَ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٍ ﴿٤٧﴾

نو وبه وايي دغه (مشرکان) چې خبر کړې مونږ ته (اوس) چې نشته ځمونږ نه هيڅوک شاهد (په دې چې تاته شريک شته).

تفسير: يعنې مونږ په صافو او ښکاره وو الفاظو د تا په حضور کې عرض کړی دی چې مونږ له سره پخپل جرم او ګناه اقرار او اعتراف نه کوو،او نه د هغه د قبلولو لپاره حاضر يو، (ګواکې په دغه وخت کې په نهايت لجاجت او سپين سترګيتوب په درواغو سره له خپل کفر، شرک، او عصيان انکار کوي)، ځينو د «شهيد» معنى شاهد اخيستې ده، او داسې مطلب ترې اخلي چې په دغه وخت کې هيڅ يو ځمونږ هغه شرکاء دلته نه وينو، او راځخه ورک شوي دي.

وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَدْعُونَ مِن قَبْلُ وَظَنُّوا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ ﴿٤٨﴾

او ورک به شي له دوی نه هغه (معبودان) چې وو دوی چې عبادت به يې کاوه (د هغو) پخوا له دې نه (په دنيا کې)، او يقين به راشي د دوی چې نشته دوی ته هيڅ ځای د تښتې (له عذاب د الله څخه).

تفسير: يعنې هغو شيانو ته چې تاسې په دنيا کې د الله تعالى شريکان ويل، او د هغو په عبادت کې لګيا وئ، نن د هغوی هيڅ درک او پته نه ده معلومه چې چېرې دي؟ د خپلو عابدانو مدد ته ولې نه راځي؟ او د عابدانو له زړو ځنې هم هغه د بللو او د عبادت کولو خيالات او افکار غائب شوي دي، هغوی اوس ښه پوهيدلي دي، چې د الله تعالى له سزا څخه له سره نشي خلاصېدی، او خپل مرۍ د ده د سزا له منګلو څخه په هيڅ وسيله نشي خوشې کولی، بالآخر بې هيلې او نااميده کيږي، او له هغو ځنې بيخي خپله بې تعلقي او بېزاري ښکاروي، چې د دوی په حمايت به له انبياوو سره جنګېدل، او د هغو پند به يې نه اوربده.

لَا يَسْـَٔمُ الْاِنْسَانُ مِنْ دُعَآءِ الْخَيْرِ وَاِنْ مَّسَّهُ الشَّرُّ فَيَـُٔوْسٌ قَنُوْطٌ ﴿۴۹﴾ وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِنْ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ هٰذَا لِيْ ۙ وَمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ وَّلَئِنْ رُّجِعْتُ اِلٰى رَبِّيْٓ اِنَّ لِيْ عِنْدَهٗ لَلْحُسْنٰى ۚ

نه ستړی کيږي انسان له غوښتلو د خير (او د انواعو د ښېګڼو)، او که ورسيږي ورته کوم شر پس ناامیده وي دی ډېر سخت (له رحمته د الله). او قسم دی خامخا که وځکوو ده ته رحمت (مهرباني غنا اوصحّت) له (جانبه) ځمونږ پس له هغې چې رسېدلې وي ده ته (له فقر او مرض)؛ نو خامخا وبه وايي دی هرومرو چې دغه (غناء او صحت لايق) ځما دی (په سبب د عمل ځما)، او ګمان نه کوم پر قيامت د درېدونکي (چې رابه شي)، او قسم دی که (بالفرض) بېرته وګرځولی شم په طرف د رب خپل؛ نو بېشکه ځما لپاره به وي په نزد د دغه (الله) کې خامخا نيکي (جنّت).

تفسير: بد انسان د خير په غوښتلو نه ستړی کيږي، او که بدي مصيبت ورته ورسيږي؛ نو بيا ناهيله او ناامیده وي، او که د رحمت نه پرې وروسته راحت راشي، د مرض نه وروسته د ښه صحت خاوند شي، د فقر او لوږې نه وروسته مالداره او مور شي؛ نو هغه بيا د خپل تدبير او کمال نتيجه ګڼي، د الله تعالی رحمت ته متوجه نه وي، او چې کله ورته د قيامت ذکر وشي؛ نو د هغه د واقع کېدو نه منکر شي، او وايي چې: اول خو واقع کيږي نه، او که بالفرض قيامت راشي؛ نو هلته به هم زه د ښې مرتبې خاوند يم.

فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِمَا عَمِلُوْا وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿۵۰﴾

پس خامخا به خبر ورکړو هرومرو هغو کسانو ته چې کافران شوي دي په هغو (عملو) چې کړي يې دي، او خامخا وبه ځکوو هرومرو پر دوی له عذاب سخته لويه.

تفسير: يعنې خوښ شئ ! چې له دغه کفر او غرور سره به هم هلته مزې او چرچې کوئ؟ کله چې هلته ورسېږئ، بيا به به درځرګنده (ښکاره) شي چې منکرين څرنګه سختې سزاوې ګالي (برداشت کوي) او په څه شان سره د خپل ګرد عمر د اعمالو په سزا (هيداد) رسيږي؟.

وَاِذَآ اَنْعَمْنَا عَلَى الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُوْ دُعَآءٍ عَرِيْضٍ ﴿۵۱﴾

او کله چې انعام وکړو مونږ پر انسان نو وګرځي (له حقه او په څنګ شي له شکره)، او لرې شي (له سمې لارې) په سبب د غرور (لويي) خپلې، او کله چې ورسيږي ده ته کومه سختي (بلاء)؛ پس دی خاوند د دعاء اوږدې وي (يعنې تل مشغول وي په سؤال او زاری سره).

تفسير: يعنې د الله تعالی د نعمتونو څخه د متمتع کېدلو په وخت کې خو د حقيقي منعم د حق پېژندلو او شکر ايستلو څخه اعراض کوي، او مخ ترې اړوي، او بيخي ترې بې پروا کيږي، او په بل اړخ اوړي، بيا هر کله چې کوم تکليف او مصيبت وروړاندې شي؛ نو هم هغه پاک الله ته خپل د عجز لاس غځوي، او اوږدې دعاوې کوي، او له دې نه نه شرميږي چې په کوم مخ او خوله ترې دغسې غوښتنې وکړم او ويې بولم، د تماشا ځای دا دی چې ځينې اوقات پر اسبابو او وسائلو نظر اچوي، او پخپل زړه کې مايوس کيږي، او په دغه حالت کې هم له ډېرې مايوسۍ او وارخطايۍ ترهور کيږي، او د پاک الله په طرف بې اختياره د دعاء لاس پورته کوي، اګر که په خپل زړه کې بې هيلې او ناامیده هم وي، خو پخپلې ژبې سره درګرده الله تعالی يادوي.

شاه صاحب (رحمة الله علیه) لیکي: «دغه ګرد د انسان د قصور او د نقصان بیان دی، چې نه پر سختی صبر او نه پر نرمی شُکر کوي».

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ اللَّهِ ثُمَّ كَفَرْتُم بِهِۦ مَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِى شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴿۵۲﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) آیا وینئ تاسي (نو ما هم خبر کړئ چې) که چېرې وئ (دغه قرآن) له نزده د الله، بیا کافران شئ تاسي په دغه (قرآن) نو څوک دی ډېر ګمراه له هغه چا چې دی په مخالفت لرې کې (له حقه) وي؟.

تفسیر: پاس یې د انسان د طبیعت عجیبه او غریبه نخچه وایسته، او ده ته د ده پر کمزوریو او ناروغیو په نهایت مؤثر بیان سره توجه ورکړه شوه، اوس تنبیه کوي چې دغه کتاب تاسي ته ستاسي په کمزوریو او نقائصو پوهوونکی، او د انجام په طرف مو متوجه کوونکی دی، که د الله تعالی له جانبه راغلی (لکه چې په واقع کې دی)، بیا نو تاسي یې ولې نه منئ؟او له دغسې اعلی او ډېرو قیمتدارو نصائحو څخه ولې منکر ېږئ؟، او د خپل عاقبت فکر او اندېښنه نه کوئ؟ بلکه د حق په مخالفت کې ډېر لرې تښتئ، نو آیا له دې نه بله کومه لویه ګمراهي، نقصان او خساره شته؟.

سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ

ژر ده چې وبه ښیو دوی ته دلائل (د قدرت) خپل چې په آفاق ملکونو کې دي، او په نفسونو د دوی کې دي، تر هغه پورې چې ښکاره شي دوی ته چې ښېشکه دغه قرآن حق دی.

تفسیر: یعنې د قرآن حقانیت خو د نورو دلائلو او براهینو په موجب په خپل ځای پاتې دی، اوس مونږ منکرینو ته د دوی په خپلو ځانونو کې او د دوی په اطرافو او اکنافو کې او په ګرد عربستان بلکه په ټول جهان کې د خپل قدرت هغه دلایل او نښې ورڅرګندوو چې په هغو سره د قرآن او د پاک قرآن د حاملینو صداقت بیخي د رڼې ورځې په شان تر سترګو روښان او عیان شي، هغه نمونې څه دي؟ هغه د اسلام د عظیم الشانو او محیر العقولو هغه فتوحات دي چې د ظاهري اسبابو له سلسلې څخه بیخي مخالف او د قرآن له وړاندوینو سره یې عیناً موافق وقوع وموندې، لکه چې د بدر په غزا کې کفارو پخپلو ځانونو کې او د معظمې په فتحه کې د عربستان په مرکز کې او د راشدو خلفاوو په عهد کې په ګرد جهان کې د هغه نمونې دوی پخپلو سترګو ولیدلې.

أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴿۵۳﴾

آیا کافي نه دی رب ستا (بلکه بس او کافي دی)، ښېشکه الله پر هر څیز شاهد حاضر ګواه دی.

تفسیر: یعنې ته پاک قرآن حق او رښتیا ومنه ! که بل څوک یې نه مني، نو آیا یواځې د الله شهادت لږ دی او کافي نه دی؟ چې هغه پر هر شي شاهد او ګواه دی، او پر هر څیز باندې له غور کولو څخه د ده د شهادت ثبوت مونده کیږي.

أَلَآ إِنَّهُمْ فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمْ ۗ أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍ مُّحِيطٌ ﴿۵۴﴾

واوره ! خبردار شه ! چې ښېشکه کُفّار په شکّ کې دي له ملاقات د رب خپل (ځکه منکران دي له بعثه)، واوره خبردار شه ! چې ښېشکه الله پر هر څیز چاپېر کېدونکی دی (په علم او قدرت خپل، او جزاء د کُفر به ورکړي).

تفسير: ينې دوی په دې تېروتلي دي چې مونږ له الله تعالی سره مخامخ کېدونکي نه يو، او له سره د ده مخ ته نه بيولي کيږو، حال دا چې الله تعالی په هر وخت او هر شي باندې محاط او چاپېر دی، او په هيڅ وخت کې هيڅوک د ده له قبضې او احاطې څخه نشي وتلی، که له مړ کېدلو څخه وروسته د دوی د ابدانو ذرّات له خاورو سره ګډ يا په اوبو کې خلط او وبهيږي، يا په هوا منتشر شي، خو بيا هم د دغه پر هرې يوې ذرې د الله تعالی علم او قُدرت محيط دی، او هغه بيا جمع کول او له نوي سره بيا ژوندي پاڅول ورته هيڅ سختي او اشکال نه لري.

تمت سورة حٰمٓ السجدة، فلله الحمد والمنّة.

سُورَةُ الشُّورَىٰ

«د (الشورىٰ) سورت مکي دی، پرته له (۲۳، ۲۴، ۲۵، ۲۷) آيتونو څخه چې مدني دي، (۵۳) آيته (۵) رکوع لري، په تلاوت کې (۴۲) او په نزول کې (۶۲) سورت دی، وروسته د «حم السجده» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

حٰمٓ ﴿۱﴾ عٓسٓقٓ ﴿۲﴾ كَذَٰلِكَ يُوحِيٓ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكَ ۙ اللَّهُ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿۳﴾ لَهُ مَا فِي السَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ﴿۴﴾

په مثل (د وحي) د همدې (سورت) همېشه وحي کوي تاته (ای محمده !) او (وحي مو کړې وه) هغو انبياوو ته چې پخوا له تا وو، الله ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي). خاص همده لره دی هر هغه شی چې په اسمانونو کې دی، او هر هغه شيان چې په ځمکه کې دي (سره له اسمانونو او ځمکې ملکا خلقًا او عبيدًا)، او هم دی ډېر پورته ډېر لوی.

تفسير: يعنې هم هغسې چې دغه سورت (چې په نهايت اعلی او اکملو مضامينو مشتمل دی) ستا په طرف وحي کاوه شي، همداسې د الله تعالی عادت دی چې دغه وحي ستا په طرف او د نورو انبياوو په طرف دائمه وليږي چې په هغې سره د حکمت شان او د حکومت اظهار تل تر تله وشي.

تَكَادُ السَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِن فَوْقِهِنَّ

نژدي دي اسمانونه (ټول دې ته) چې وچوي له پاسه د دوی (له جهته د ظهور د کبرياء او عظمت د رب العزّت).

تفسير: يعنې اسمان به د الله تعالی د عظمت او جلال له زوره ځيري شي (يا به وچوي)، يا د بې حسابو پرښتو له دروندوالي يا د دوی د ذکر له کثرته يو خاص تأثير توليد او د هغه په اثر به ځيريږي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «په اسمانونو کې د څلورو ګوتو په اندازه هم داسې يو ځای نشته چې په هغه کې به پرښتې سره په سجده نه وي پرتې»، ځينو د دې آيت مطلب داسې اخيستی دی: کله چې مشرکين الله تعالی ته شريکان، ځامن او لونې دروي؛ نو د پاک الله په دربار کې داسې بې ادبي، سپين سترګي او ګستاخي له اثره هيڅ لرې نه دی چې د اسمان پاسنی سطحه ځيري او ټوټې ټوټې د لاندې ولويږي، لکه څنګه چې الله جل جلاله د «مريم» په سورت کې فرمايلي دي: ﴿تَكَادُ السَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ۙ * أَن دَعَوْا لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدًا﴾ مګر د الله تعالی د رحمت او مغفرت له شانه او د پرښتو د تسبيح او استغفار له وجهې دغه نظام قوام لري، او ټينګ ولاړ دی.

وَالْمَلَائِكَةُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِمَن فِي الْأَرْضِ ۗ

او پرښتې تسبيح وايي سره د حمد د رب خپل، او مغفرت غواړي لپاره د هغه چا چې په ځمکه کې دي (له مؤمنانو).

تفسير: يعني اى الله تعالى ! د مؤمنينو خطا او ښوييدل معاف وفرمايه !، او كفّار يو ځلي مه نيسه، او بيخي يې مه سپېره او مه يې پوپناه كوه !.

أَلَآ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ۝٥

واوره ! خبردار شه ! چې بېشكه همدغه (الله) ښه مغفرت كوونكى (د خطياتو) ډېر رحم كوونكى دى.

تفسير: يعني د خپلې مهربانۍ له امله د پرښتو دعاوې قبلوي، او د مؤمنينو خطاوې ورمعافوي، او كفّارو ته تر يوې نېټې پورې مهلت وركوي، كه نه د دنيا دغه نظام او قوام او دغه لويه كارخانه به په يوه رپه كې درې وړې خرابه او ويجاړيږي.

وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهُ حَفِيظٌ عَلَيْهِمْ ۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ۝٦

او هغه كسان چې نيولي يې دي بې له دغه (الله نور) دوستان (معبودان چې عبادت يې كوي) الله ښه ساتونكى دي پر دوى (او ټول احوال يې ورمعلوم دي چې جزاء به وركړي)، او نه يې ته پر دوى وكيل (مسلّط كړى شوى).

تفسير: يعني په دنيا كې خو مشركينو ته مهلت وركوي، ليكن داسې مه ګڼئ چې هغوى د همېشه لپاره نجات وموند، د دوى ګرد اعمال او احوال د الله تعالى په نزد محفوظ دي، چې پخپل وخت به ورځرګندېږي، تاسې په دغه فكر او اندېښنه كې مه لوېږئ چې دوى ولې ځما دعوت او تبليغ ته غوږ نه ږدي؟ او د نه منلو په صورت ولې سمدلاسه نه تباه او نه بربادېږي؟ تاسې د دغو خبرو ذمه وار نه يئ، ستاسې كار يوائې د حق تعالى پيغام رسول دي، وروسته له هغه ځمونږ كار دى چې مونږ د دوى حساب او كتاب ګورو، او عادلانه فيصله د هغه په نسبت صادروو.

وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا لِّتُنذِرَ أُمَّ ٱلْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا

او همداسې (چې هر نبي ته مو وحي كوله) وحي مو كړېده تاته (اى محمده !) قرآن عربي (په ژبه د قوم ستا) لپاره د دې چې وويروې (اهل د) مركز د ښارونو (چې مكه ده) اوهغه كسان چې چاپېر دي له دې نه.

تفسير: ام القرى (لوى كلى) يې مكې معظمې ته وفرمايل چې د ګردو اعرابو مجمع به هلته سره كېده، او په ټوله دنيا كې د الله تعالى كور هلته دى، او هم هغه كور د ځمكې پر مخ له ګردو ځنې پومبنى اول معبد ټاكلى شوى دى، بلكه له روایاتو څخه معلوميږي چې د خلقت په ابتداء كې الله تعالى د ځمكې په غوړولو، ارتولو، او لويولو له همدغه ځايه شروع كړې ده، چېرې چې اوس كعبة الله واقع ده، او د معظمې مكې له شاوخوا څخه اول عربستان او بيا ګرد جهان مراد دى.

وَتُنذِرَ يَوْمَ ٱلْجَمْعِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۚ فَرِيقٌ فِى ٱلْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِى ٱلسَّعِيرِ ۝٧

او چې وويروې (خلق) له ورځې د جمع كېدلو (چې ورځ د قيامت ده)، چې نشته هيڅ شك په (وقوع د) دغه (قيامت كې) يوه فرقه به وي په جنت كې (چې مؤمنان دي)، او بله فرقه به وي په دوزخ كې (چې كافران دي).

تفسير: يعني دوی خبردار کړئ چې يوه داسې ورځ هم راتلونکې ده چې ګرد ړومبني او وروستني مخلوقات به دخپل حساب، کتاب، ثواب، او عقاب لپاره د الله تعالى په حضور کې حاضريږي، دغه يوه يقيني او قاطعه خبره ده، چې په هغې کې هيڅ قسم تردّد، اشتباه، فريب، شک او شبهه نشته، پر هر انسان لازم دي چې د هغې ورځې لپاره ځان تيار کړي، په دغه وخت کې به ټول مخلوقات په دوو فرقو سره تقسميږي، يوه فرقه به جنتيان وي، او بله فرقه به دوزخيان وي، نو تاسې پخپل ځان غور او دقّت وکړئ چې په کومه فرقه کې به يئ؟ که نه؟ او څه سامان مو ورته تهيه کړی دی؟ که نه؟.

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَهُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ وَالظّٰلِمُوْنَ مَا لَهُمْ مِّنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۝

او که اراده فرمايلي وی الله؛ نو خامخا ګرځولی به يې وو دغه ټول مخلوق فرقه يوه (په دين د اسلام)، وليکن ننباسي (الله) هر هغه څوک چې اراده وفرمايي په رحمت خپل کې، او ظالمان چې دي نشته دوی ته هيڅوک دوست (نافع) او نه مددګار (دافع د عذاب).

تفسير: يعني بېشکه الله تعالى قدرت درلود، که اراده يې فرمايلي وی؛ نو ګرد خلق به يې يو شان جوړ او پيدا کړي وی، او په يوه لاره به يې لګولي وی، ليکن د ده د حکمت اقتضاء داسې شوه چې خپل د رحمت او د غضب د دواړو قسمو صفات اظهار يې وفرمايي، نو ځکه د بندګانو په احوال کې يې اختلاف او تفاوت کېښود، يوه ډله يې د خپل عبادت او اطاعت له سببه د رحمت مورد وګرځوله، او بله ډله يې د دوی د ظلم، طغيان، او عصيان په علّت له خپل رحمت څخه لرې وشړله، هغه کسان چې له رحمت څخه لرې شوي دي، او د غضب مستحق ګرځيدلي دي، او د الله تعالى د حکمت اقتضاء پر دوی خپله سزا جاري کړې ده؛ نو د دوی د آرامی او هوسايی ځای هيڅېرې نشته، او نه دوی کوم دوست، رفيق، او مددګار موندلی شي، چې دوی ته د الله تعالى له عذابه نجات ورکړي.

اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اَوْلِيَآءَ ۚ فَاللّٰهُ هُوَ الْوَلِيُّ وَهُوَ يُحْيِ الْمَوْتٰى ۫ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝

آيا نيولي دي (کفّارو) غير له الله (نور معبودان) دوستان؟ (که دوی نيسي حقّاني دوست) پس الله چې دی همدی دی دوست (په حق سره) او همدی ژوندي کوي مړي، او همدی پر هر څيز باندې ښه قادر دی (چې ځينې يې همدغه ژوندي کول دي).

تفسير: يعني که رفيق او مددګار د خپلو ځانونو لپاره نيسئ؛ نو پاک الله خپل ځانته ولي او دوست وګرځوئ، چې ګرد کارونه جوړولی شي، تر دې پورې چې مړي هم ژوندي کولی شي، او پر هر څيز پوره قدرت او توان لري، دغه عاجز، مجبور، او ناتوان رفيقان هيڅ ستاسې په کار نه درځي.

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهٗۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ

او په هغه خبره کې چې جګړه کوئ تاسې (له کفّارو سره) په هغه کې له کوم څيزه؛ پس حکم (فيصله) د هغه (مفوض) دی الله ته.

تفسير: يعني ښايي چې د ګردو جګړو فيصله هم هغه ته ورسپارلی شي !، عقايد وي که احکام عبادات وي که معاملات، په هر څيز کې چې جګړه او اختلاف واقع شي؛ د هغه ډېره ښه فيصله همدا ده چې پاک الله ته وروسپارله شي !.

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبِّيْ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ۝۱۰

دغه (مطلق قدير چې حكم كوي په حقه سره) الله دى رب ځما، خاص پر هم ده توكل كړى دى ما، او خاص همده ته رجوع كوم (په هر حال په اطاعت سره).

تفسير: يعنې زه تل پر الله اعتماد او اطمينان لرم، او په هره معامله كې تل د هم هغه په طرف رجوع كوم.

فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا وَّمِنَ الْاَنْعَامِ اَزْوَاجًا ۚ

(الله) پيدا كوونكى دى د اسمانونو او د ځمكې، پيدا كړي دي (الله) تاسو ته له ځانونو ستاسې جوړې (له جنسه ستاسې ښځې)، او له چارپايانو جوړې (نر او ښځه).

تفسير: يعنې له چارپايانو څخه يې جوړې (نر او ښځه) در پيدا كړي دي، چې هغه ستاسې په كار درځي، او ترې منافع اخلئ.

يَذْرَؤُكُمْ فِيْهِ ؕ

خواره كړي يې دي تاسې په دغه (طريقه د توالد او تناسل) سره.

تفسير: يعنې د انسانانو ښځې ښځې جوړې يې پيدا كړي دي، او د نورو ساكښانو ښځه جوړه يې پيدا كړې ده، او د دوى ډېر نسلونه يې خپاره واره او منتشر كړي دي، چې د ځمكې پر مخ كې په هر ځاى كې په خپلې روزى او معيشت پسې ګرځي، او په جدوجهد كې مشغول او لګيا دي.

لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ ۚ

نشته په شان د دغه (الله) هيڅ څيز (په هيڅ څيز كې).

تفسير: يعنې نه په ذات كې ورسره مماثل دي، او نه په صفاتو كې، او نه د ده د احكامو او فيصلو په شان د بل چا حكم او فيصله كېدى شي، او نه د ده د دين په شان بل كوم دين دى، او نه دى كومه جوړه، سيال، شريك، خپل او خپلوان لري.

وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ۝۱۱

او همدغه (الله) دى ښه اورېدونكى (دټولو اقوالو) ښه ليدونكى (د ګردو اعمالو).

تفسير: يعنې بېشكه الله هر شى وينې او اورې يې، مګر د الله تعالى ليدل او اورېدل هيڅ د مخلوقاتو په شان نه دي، ګرد كمالات د ده په جامع الصفات ذات كې مجموع دي، خو د ده هيڅ يو كمال داسې نه دى چې دهغه كيفيت بيان كړى شي، ځكه چې د هغه مثال او نظير هيڅېرې نشته، الله تعالى د مخلوقاتو له مشابهت او مماثلت څخه بيخي پاك، مقدّس او منزّه دى، نو بيا د ده د صفاتو كيفيت به څرنګه په فهم او پوهه كې راشي؟.

لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝۱۲

خاص دغه (الله) لره دي كليګانې (چابيانې) (د خزائنو) د اسمانونو او د ځمكې، پراخوي رزق، روزي د هر هغه چا چې اراده وفرمايي، او تنګوي (يې پر هغه چا چې اراده وفرمايي) بېشكه دغه (الله) پر هر څيز باندې ښه عالم دى.

تفسير: د ګردو خزائنو کليګاني د ده په لاس کې دي، همده ته دغه قُدرت او اختيار حاصل دی، چې له هرې خزانې څخه هر چا ته هر څومره چې اراده وفرمايي؛ ور يې کړي، ګردو ذوي الأرواحو ته همدی رزق او روزي ورکوي، ليکن د هغه زيادت او د نقصان تعيين سم له خپل حکمت سره کوي، پاک الله ته دغه خبره ډېره ښه معلومه ده چې چاته څومره شی ورعطا کړی شي؟ او د ده استحقاق څومره دی؟ او د هغه په حق کې د څومره ورکړې مصلحت دی؟ کوم حال او وضعيت چې د روزې په نسبت دی؛ د نورو عطاياوو په متعلّق يې هم همغسې وګڼئ !.

شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا وَّالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهٖٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسٰٓى

مقرر کړی، بيان کړی دی (الله) تاسې ته له دين څخه هغه چې وصيت (حکم) يې کړی وو په هغه سره نوح ته، او هغه (څيز) چې حکم وحي مو کړې ده تاته (ای محمده !)، او هغه (څيز) چې حکم کړی وو مونږ په هغه سره ابراهيم ته، او موسی ته، او عيسی ته.

تفسير: له آدم عليه السلام څخه وروسته او له ګردو څخه ړومبنی رسول نوح عليه السلام دی، بلکه ښايي چې وويلی شي: في الحقيقت د تشريعي احکامو سلسله له همدغه نوح عليه السلام څخه شروع شوې ده، او وروستني رسول محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم دی، چې پر دوی رسالت او نبوّت خاتمه موندلې ده، په منځ کې هومره انبياء او رسولان چې راغلي دي، په دوی کې ابراهيم، موسی، عيسی عليهم السلام همدغه درېواړه هم زيات مشهور شوي دي، او د دوی نوم اخيستونکي په هره زمانه کې ډېر کسان موجود وو، ځينې دغو پنځو تنو رسلُ الله ته «أولوالعزم» رسولان هم وايي، په هر حال په دغه ځای کې الله تعالی په صاف ډول سره وښود چې په اصل کې دين تل ترتله يو وو، ځکه چې عقائد، اخلاق، او د ديانت په اصولو کې ټول سره يو او ګرد سره متفق وو، هو ! په ځينو فروعو د هرې زمانې د مصالحو په موجب څه تفاوت واقع شوی دی، او هم د دين د قيام طور او طريقه يې په هر وخت کې بېله درولې ده، چې هغه يې په بل ځای کې داسې فرمايلی دی: ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا﴾.

اَنْ اَقِيْمُوا الدِّيْنَ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا فِيْهِ

داسې چې قائم کړئ، سم ودروئ دين (د توحيد) او مه غورځوئ اختلاف په هغه کې.

تفسير: يعنې پر ګردو انبياوو او د دوی پر امّتونو همداسې حکم صادر شوی دی، چې د الله تعالی دين پخپلو اعمالو او اقوالو کې ټينګ او قائم وساتئ !، او د دين په اصل کې هيڅکله تفريق او اختلاف روا او جائز مه بولئ !.

كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ مَا تَدْعُوْهُمْ اِلَيْهِ ۭ اَللّٰهُ يَجْتَبِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يَّشَاۗءُ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يُّنِيْبُ ۝

ډېر دروند دی پر مشرکينو هغه (څيز) چې بولې ته دوی هغه (توحيد) ته، الله راکاږي ځان خپل ته (غوره کوي) هغه څوک چې اراده وفرمايي (د غوره کولو يې)، او سمه لاره ښيي دين خپل ته هغه چاته چې رجوع وکړي (الله ته).

تفسير: يعنې د توحيد د هغه دين په طرف چې تاسې خلقو ته دعوت ورکوئ؛ پر مشرکينو هغه ډېر دروند واقع کيږي، ګواکې تاسې کوم نوی عجيب شی خلقو ته وروړاندې کوئ، چې هيڅوا د هغه نظير او مثال پخوا له تاسې نه دی وړاندې کړی، نو ښه د توحيد په مثال يو صاف، معقول، ښکاره او متفق عليه شی هم کله چې سخت او درونده ورښکاره شي، او په هغه کې هم خلق د اختلافاتو له غورځولو څخه پاتې نشي، نو آيا د دوی جهالت او بدبختي خپلې انتهايي اندازې

ته نه ده رسېدلې؟ رښتيا خبره همدا ده: هدايت او نور شيان ګرد (ټول) د الله تعالى په لاس کې دي، په هر قسم چې اراده وفرمايي؛ خپل بندګان غوره کوي، او خپل طرف ته يې وربولي، او په خپل رحمت سره د قرب او اصطفاء په مقام يې فائزوي.

وَمَا تَفَرَّقُوٓا۟ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۗ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى لَّقُضِىَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُورِثُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ مِنۢ بَعْدِهِمْ لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿١٤﴾

او نه وو سره مختلف شوي (پخواني خلق په دين خپل کې) مګر پس له هغه چې راغى دوى ته علم له جهته د حسده په منځ خپل کې، او که چېرې نه وى يوه خبره چې رومبى ويلې شوې ده له (جانبه) د رب ستا تر نېټې په نامه کړى شوې پورې؛ نو خامخا حکم به کړى شوى وو په منځ د دوى کې (په عذاب د کفّارو په دنيا) کې، او بېشکه هغه کسان چې ورته په ميراث ورکړى شوى دى کتاب پس له هغوى څخه؛ خامخا په داسې شک کې دي له دې (قرآنه) چې په اضطراب اچوونکى دى.

تفسير: په توحيد او نورو اصولو کې د مخکيني امتونو اختلاف د حسد او عناد له کبله وو، که د الله تعالى دا خبره د مخکښې نه وه شوې چې د هر څيز د عاقبت لپاره يوه نېټه ده مقرره شوې؛ نو د دوى په منځ کې به الله تعالى فيصله کړي وى.

فَلِذَٰلِكَ فَٱدْعُ ۖ وَٱسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ ۖ وَقُلْ ءَامَنتُ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِن كِتَٰبٍ ۖ وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ ۖ ٱللَّهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۖ لَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ ۖ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ۖ ٱللَّهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا ۖ وَإِلَيْهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٥﴾

پس دغه (توحيد) ته پس وبوله (اى محمده ! دغه خلق)، او محکم ولاړ اوسه (په دې دعوت) لکه چې امر حکم کړى شوى دى تاته، او مه کوه متابعت د خواهشونو د دوى، او ووايه (اى محمده ! دوى ته) ايمان مې راوړى دى پر هغه چې نازل کړى دى الله له (جنسه د سماوي) کتاب څخه، او امر حکم کړى شوى دى ماته چې عدل وکړم په منځ ستاسې کې، الله رب دى ځمونږ او رب دى ستاسې، مونږ ته ده (جزا د) اعمالو ځمونږ، او تاسې ته ده (جزاء د) اعمالو ستاسې، نشته هيڅ جګړه په منځ ځمونږ او په منځ ستاسې کې، الله جمع به وکړي په منځ ځمونږ (او تاسې کې لپاره د فيصلې)، او خاص همده ته بيا ورتلل دي.

تفسير: يعنې کله چې د حق دين په متعلق د تفريق او اختلاف داسې طوفان له څو لرو خواوو څخه پورته شوى دى، نو ستاسې فريضه دا ده چې په غير متزلزل عزم او ټينګې ارادې سره د دغه دين په طرف خلقو ته هم هغسې بلنه، دعوت او تبليغ وکړئ چې آدم او نوح او وروسته له هغو نور ګرد انبياء عليهم السلام نور خلق، الله ته بلل، تاسې شخصًا د الله تعالى له حکم لږ شانې هم دېخوا او هغې خوا ته مه غورځېږئ !، قولاً، فعلاً، عملاً او حالا برابر پر هم هغې سمې صافې لارې روان اوسئ !، چې تر اوسه پورې پرې روان يئ، د مکذبينو او معاندينو د غوښتنو هيڅ پروا مه کوئ !، او په صاف او ښکاره ډول سره د خپل تبليغ اعلان وکړئ !، او داسې ووايئ چې: زه د الله تعالى پر ټولو نازل کړى شويو کتابونو اعم له دې نه چې «تورات» وي که انجيل، يا قرآن يا بله کومه صحيفه، چې په هره زمانه کې پر هر يو نبي نازل شوى دى؛ د زړه له صدقه ايمان، ايقان لرم، ځما کار د پخوانيو صداقتونو تکذيب نه دى، بلکه زه هغه ګرد منم او باقي يې پرېږدم،

او پر ما حكم صادر شوى دى، چې ستاسې په منځ كې عدل او انصاف وچلوم، او د هغو اختلافاتو فيصله په عدالت او انصاف سره صادره كړم چې تاسې پخپل منځ كې غورځولي دي، او د احكامو او شرائعو په تبليغ، يا د خصوماتو په حل او فصل كې د عدل او مساوات اصول قائم ودروم، هر هغه صداقت او رښتيا بې له تكلفه ومنم او تسليم يې كړم؛ چې په هر ځاى او په هر مذهب كې وي، هم هغسې چې تاسې د الله تعالى د بندګۍ او احكامو منلو په طرف رابولم، له تاسې څخه ډومبى زه پخپله هم پر هغو پوره عمل كوم، او غواړم چې دخپل پوره اطاعت، صميميت او عابديت تثبيت كړم، ځكه چې زه ښه پوهېږم چې ځما او ستاسې رب هم هغه يو رب العالمين دى، نو ښايي چې مونږ د هغه د خوښې او استرضاء لپاره زيار اوكار وكړو، كه تاسې داسې ونه كړئ؛ نو له تاسې سره زه هيڅ تعلق نه لرم او غرض نه نيسم، ما خپل د دعوت او او د تبليغ فريضه اداء او له هغې ځنې په ښه شان سره فارغ شوى يم، له مونږ ځنې هيڅ يو د بل چا د اعمالو ذمه وار كېدى نشي، د هر چا عمل له هغه سره مل دى، او هر څه يې چې كړي وي، هم هغه يې په مخ ورځي، او هر څه يې چې كرلي وي؛ هم هغه به ريبي، نو ښايي چې هر څوك د خپلو اعمالو نتائجو ته تيار او په انتظار اوسي، وروسته له دې نه د دې خبرې ضرورت نه دى پاتې چې زه له تاسې سره جګړه، مباحثه او تكرار وكړم، مونږ او تاسې او نور مخلوقات د الله تعالى په حضور كې خپل د حساب او كتاب لپاره حاضرېدونكي يو، هلته به هر يوه ته د دغې خبرې اطلاع حاصليږي چې ده له دنيا ځنې څه څيز د خپل ځان لپاره ګټلى او راوړى دى؟.

تنبيه: دغه آيت مكي دى، او د قتال آيات په مدينې منورې كې نازل شوي دي.

وَالَّذِينَ يُحَآجُّونَ فِي اللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا ٱسۡتُجِيبَ لَهُۥ حُجَّتُهُمۡ دَاحِضَةٌ عِندَ رَبِّهِمۡ وَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ وَلَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞ ١٦

او هغه كفّار چې مخاصمه كوي په (دين د) الله كې وروسته له دې نه چې قبولوالى كړى شوى دى (حكم د الله) لره، خصومت، حجّت د دوى باطل دى په نزد د رب د دوى، او پر دوى غضب دى (د الله)، او شته دوى ته عذاب ډېر سخت.

تفسير: يعنې د الله تعالى دين، او د ده كتاب او د ده د خبرو صداقت په علانيه صورت ظاهر شوى دى، تر دې پورې چې د زياتو عقلاوو او پوهانو له خوا قبول اومنل شوى هم دى، او عل الأكثر سره له دې چې تر اوسه يې دغه دين نه دى منلى، خو سره له هغه د ده په حقّانيت او صداقت اقرار كوي، نو سره له دې چې حق او حقيقت د ظهور او وضوح دغې درجې ته رسېدلى دى، ولې خلق خامخا د دين په مورد كې سره جنګ او جګړې نښلوي؟ او د محمدي دين د متابعينو سره مناقشې كوي؟ دوى د الله تعالى د غضب او د سخت عذاب مستوجب دي، د دوى دغه ګردې د دروغو جګړې او تمام ابحاث چتې باطل او بې اساسه دي.

ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ وَٱلۡمِيزَانَۗ

الله هغه (لوى ذات) دى چې نازل كړى يې دى كتاب (قرآن) په حقه سره او ميزان تله يې هم مقرره كړې ده (چې خرڅوونكي او اخيستونكي دواړه نقصاني نه شي).

تفسير: الله تعالى مادّي تله هم نازله كړې ده، چې په هغې سره اجسام تلل كيږي، او معنوي علمي تله يې هم چې هغه ته سليم عقل وايي، او اخلاقي تله هم چې هغې ته عدل، انصاف او مساوات ويل كيږي، او له ګردو ځنې لوى او مهم ميزان «حق دين» دى، چې د خالق اومخلوق حقوق په ډېر ښه صورت سره تصفيه او بېلوي، او په هغه كې ګردې خبرې په ښه ډول سره داسې تللې شوي دي چې هيڅ تزييد او تنقيص په كې نشته.

وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيبٌ ﴿۱۷﴾

او څه څيز خبر کړی يې ته (په قُرب د قيامت بې له وحي) ښايي چې ساعت (قيامت) نژدې وي (نو په ښو اعمالو ورته تيار شئ !).

تفسير: يعنې خپل اعمال او احوال د «حق دين» په تله کې يې وتلئ !، او دغه خبره په ښه شان سره ځان ته معلومه کړئ چې په څه اندازه ستاسو اعمال خالص او کامل دي؟ دغه چاته معلومه ده چې د قيامت ساعت به ډېر نژدې رارسېدلی وي، بيا په هغه وخت کې به هيڅ نشی کېدی، هر هغه فکر او ذکر او تياری چې کوئ ښايي د هغه له رارسېدلو څخه مخکې يې وکړئ !.

يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا ۖ وَالَّذِينَ آمَنُوا مُشْفِقُونَ مِنْهَا وَيَعْلَمُونَ أَنَّهَا الْحَقُّ ۗ أَلَا إِنَّ الَّذِينَ يُمَارُونَ فِي السَّاعَةِ لَفِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿۱۸﴾

تعجيل کوي په راتللو د دغه (قيامت) هغه کسان چې نه راوړي ايمان په هغه (قيامت) باندې، او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی؛ ويريدونکي دي له دغه (قيامت)، او پوهيږي په دې چې بېشکه دغه (قيامت) حق دی، واوره ! خبردار شه ! بېشکه هغه کسان چې مخاصمه جګړې کوي په (راتللو د) قيامت کې خامخا دوی په ګمراهۍ لرې کې دي (له حقه).

تفسير: يعنې هغه کسان چې پر قيامت يقين نه لري، نو هغوی د ټوکو مسخرو په ډول په ډېر بې فکرۍ او لاقيدۍ سره وايي چې: صاحبه ! هغه ستا قيامت کله راځي؟ ولې دومره ځنډ (ايسارتيا) او تعطيل په کې کيږي؟ ولې ژر نه واقع کيږي؟ ليکن هغه ته چې الله تعالى ايمان او يقين ور په برخه کړی وي؛ هغوی د هغه هولناک ساعت له تصوّره څخه ويريږي، او ريږدي او لرځيږي، او په دې ښه پوهيږي چې همدغه شی واقع کېدونکی دی، او هيڅوک د هغه د وقوع مخه نشي نيولی، نو ځکه تل د هغه په ذکر او فکر او تياری کې مشغول او لګيا اوسيږي، نو له دې نه وپوهېږئ چې د دغو جګړه کوونکو منکرانو حشر او نشر به څرنګه کيږي؟ کله چې يو سړی د قيامت په راتګ يقين نه لري؛ نو دغه به څه تهيه او تياری ورته وکړي؟ هو ! هومره چې له دغه ثابت حقيقت څخه انکار او پرې تمسخر کوي؛ هومره په ګمراهۍ او ضلالت کې ترقي او پرمختګ او له مسلمانۍ او هدايت څخه مباعدت کوي.

اللَّهُ لَطِيفٌ بِعِبَادِهِ

الله ډېر لطف کوونکی دی ښه مهربان دی پر بندګانو خپلو.

تفسير: يعنې (أكرم شأنُه وأعظم برهانُه) سره له تکذيبه او انکاره د هيڅا روزي نه بندوي، بلکه د بندګانو د خورا نريو نريو احوالو رعايت کوي، او په نهايت نرمي او لطيف تدبير سره د دوی تربيت فرمايي.

يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ ۖ وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ ﴿۱۹﴾

رزق، روزي ورکوي (الله) هغه چاته چې اراده وفرمايي، او همدی قوي زورور ښه زبردست ډېر غالب دی.

تفسير: يعنې د هر چا په نسبت هر څه چې اراده يې وي؛ ورکوي يې.

مَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الْآخِرَةِ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ ۖ

هر څوک چې وي دی چې اراده لري (په عمل سره ثواب) کښت (فصل) د آخرت؛ نو زیادت کوو په کښت د ده کې.

تفسیر: د یوې نېکۍ لس چنده ثواب ورکوي، بلکه تر اووه سوه چنده او له دې نه هم لا زیات، او په دنیا کې د ایمان او صالح عمل په برکت کومه پراخي او برکت یې چې پر برخه کیږي؛ هغه ښه دی.

وَمَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ نَصِيبٍ ﴿٢٠﴾

او هر څوک چې وي دی چې اراده لري (په عمل خپل سره متاع) کښت د دنیا؛ نو وربه کړو ده ته له هغه (که اراده وفرمایو)، او نه به وي ده ته په آخرت کې هیڅ نصیب برخه (بې له جهنّمه).

تفسیر: هر څوک چې د دنیا لپاره محنت او زحمت وکالي، نو سم له خپل قسم سره برخه تري مومي، خو له دغه نه زیاته هیڅ یوه فائده په آخرت کې نه وررسیږي، لکه څنګه چې الله جل جلاله (د ۱۵ جزء د بني اسرائیل سورت په (۲) رکوع (۱۸) آیت) کې فرمایلي دي: ﴿عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَنْ نُرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ جَهَنَّمَ﴾.

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ ۚ

آیا دي دوی لره شریکان چې سازه کړي دوی لاره هغوی ته له دین (د جاهلیت) هغه (څیز) چې اذن حکم نه دی کړی په هغه سره الله (دې کفّارو ته لکه شرک او نور معاصي).

تفسیر: یعنې الله تعالی د خپلو انبیاوو په ژبه د دین د آخرت حقه لاره ښوولې ده، آیا ماسوا له الله څخه بل څوک داسې شته چې د بلې کومې لارې د مقررولو حق او اختیار ورته حاصل وي؟ چې هغه د الله تعالی حرام کړي شیان حلال یا حلال کړي شیان حرام کړي؟ نو بیا دغو مشرکانو د الله تعالی هغه لاره چې انبیاوو علیهم السلام ښوولې ده، ولې پرېښوده؟ او بله لاره یې له کومه راویسته؟.

وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۗ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢١﴾

او که چېرې نه وي (ویلی شوي) خبره د فیصلې (د تأخیر د عذاب) نو خامخا حکم به کړی شوی وو په منځ د دغو (کفّارو او مؤمنانو) کې، او بېشکه ظالمان چې دي شته دوی ته عذاب ډېر درد ورکوونکی.

تفسیر: یعنې د فیصلې وعده ده په خپل وخت.

تَرَى الظَّالِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا كَسَبُوا وَهُوَ وَاقِعٌ بِهِمْ ۗ

وبه وینې ته (په قیامت کې) ظالمان ویریدونکي له جهته (د جزاء) د هغو (بدیو) چې کړي یې دي، حال دا چې هغه (خامخا) به پرېوتونکي واقع کېدونکي وي پر دوی.

تفسیر: یعنې د خپلو اعمالو له نتائجو څخه که نن نه ویرېږئ؛ نو په هغه ورځ کې به خو هرومرو وویرېږئ، او دغه وېره خامخا پر دوی لویدونکې ده، حال دا چې دوی به د تېښتې د خلاصي او نجات لپاره هیڅ یوه لاره نه مومي.

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فِي رَوْضَاتِ الْجَنَّاتِ ۖ لَهُم مَّا يَشَاءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ ﴿٢٢﴾

او هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی، او کړي يې دي ښه (عملونه) په (خورا ښو پاکو) باغونو د جنت کې به وي، وي به دوی ته هغه (نعمتونه) چې خوښ وي د دوی په نزد د رب د دوی، دغه (مذکور کرامت) همدغه دی فضل ډېر لوی.

تفسیر: يعنې په جنّت کې هر قسم روحاني او جسماني راحتونه او د خپل رب قرب شته، چې همدغه خورا لوی فضل دی، د دنیا عیش او راحت د دې په مقابل کې څه حقیقت لري؟.

ذَٰلِكَ الَّذِي يُبَشِّرُ اللَّهُ عِبَادَهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ۗ

دغه (ثواب) هغه دی چې زېری کوي الله (په هغه سره) پر هغو بندګانو خپلو چې ایمان يې راوړی دی، او کړي يې دي ښه (عملونه).

تفسیر: يعنې الله تعالی کوم زېری چې ور کړی دی؛ هغه خامخا واقع کېدونکی دی.

قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ ۗ

ووایه (ای محمده ! دوی ته) چې نه غواړم له تاسې په دغه (پیغام رسولو) اجر لیکن دوستي غواړم په قرابت خپلوی کې.

تفسیر: د قرآن په شان دولت تاسې ته درکوم، او د ابدي نجات او فلاح لاره درښیم، او د جنت زېری درکوم، دغه ټول محض لوجه الله دي، د دغې خیر غوښتنې او احسان څه معاوضه له تاسې ځنې نه غواړم، تش یوه خبره غواړم چې له هغه نسبي او کورني او قومي تعلّقاتو څخه اقلاً سترګې مه پټوئ، چې زه يې له تاسې سره لرم، آخر ستاسې معامله له اقاربو، خپلوانو او عزیزانو سره څرنګه ده؟ ډېر کله د دوی بې موقعه حمایت هم کوئ، ځما وینا دا ده: که تاسې ځما خبره نه منئ، مه يې منئ !، که ځما دین نه قبلوئ، یا ځما د تأیید او حمایت لپاره که نه درېږئ؛ هم څه خبره نشته، لیکن اقلاً د قرابت او صله رحمی لږ څه خیال او رعایت په کار دی، ښایي چې له ظلم او ضرر رسولو او لاس غځولو څخه ستانه (منع) شئ !، او ماته دومره فرصت او موقع او آزادي راکړئ چې د خپل الله پیغام ټولې دنیا ته ورسوم، آیا زه د دغومره دوستی او فطري محبت استحقاق هم نه لرم؟.

وَمَن يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهُ فِيهَا حُسْنًا ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾

او هر څوک چې وکړي نېک کارونه؛ زیات به کړو مونږ ده ته په هغه (نېک کار) کې ښایست، بېشکه الله ښه مغفرت کوونکی (د معصیت) ښه قبلوونکی (د طاعت) دی.

تفسیر: يعنې که انسان دنېکی او ښېګڼې لاره اختیار کړي؛ نو الله تعالی هم د ده نیکي او ښېګڼه زیاتوي، په آخرت کې د اجر او ثواب په اعتبار، او په دنیا کې ښه اخلاق او ښایسته خویونه ورعطا کوي، او د داسې سړي ښوییدل هم ښې، ښایي دلته د دې مضمون ذکر يې ځکه فرمایلی وي، چې اقلا د قرابت محبت مطلوب دی، چې د هغه حاصل د ایذاء او ظلم څخه ممانعت وو، لیکن که څوک له دې نه زیاته نیکي وکړي؛ نو هغه دې ښه وپوهېږي چې د الله تعالی په دربار کې د هیڅا نیکي نه ضایع کېږي، بلکه زیاتېږي.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ۖ فَإِن يَشَإِ اللَّهُ يَخْتِمْ عَلَىٰ قَلْبِكَ ۗ وَيَمْحُ اللَّهُ الْبَاطِلَ وَيُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٢٤﴾

آيا وايي (دا كفّار) چې له خپل ځانه ترلي دي (محمد) پر الله دروغ، پس که اراده وفرمايي الله؛ نو مهر به کيږدي (د صبر) پر زړه ستا، او محو کوي (يا) که اراده وفرمايي الله؛ نو مهر به کيږدي پر زړه ستا (زائله به کړي نازله شوې وحي له تانه)، او محو کوي الله باطل، او ثابتوي حق په کلماتو خپلو سره، بېشکه دغه (الله) ښه عالم دی په خبرو د سينو (زړونو) باندې هم.

تفسير: يعنې که په فرض محال سره ته کومه خبره په دروغو سره جوړه او د هغې نسبت پاک الله ته وکړې؛ نو الله تعالى قدرت لري چې ستا پر زړه مهر ولګوي، او بيا پرښته سره له دغه معجز نظام کلام پر تا نازله نشي، او د وحي سلسله درځخه منقطعه شي، بلکه هغه خبرې چې پخوا له دې نه پر تا نازلې شوي دي؛ هم درځخه سلب او هېرې کړي، لکه څنګه چې الله جل جلاله (په ۱۵ جزء د بني اسرائيل سورت په (۱۰) رکوع (۸۶ - ۸۷) آيتونو کې) فرمايلي دي: ﴿وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِ عَلَيْنَا وَكِيلًا ۝ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ فَضْلَهُ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا﴾.

تنبيه: د دغه آيت په تفسير کې ډېر اقوال شته، ځما په نزد همدغه مذکور مطلب بې تکلفه دی چې پاس وليکل شو، په دغه تفسير سره د ﴿وَيَمْحُ اللَّهُ الْبَاطِلَ﴾ جمله مستأنفه شوه، لکه چې له ترجمې ځخه هم ظاهر دي، او اکثرو محققينو همدغه غوره کړې ده، البته د مضارع معنى مترجم (رحمه الله) په حال سره کړې ده، چې هغه بيخي صحيحه ده، مګر ځما په خيال سره دلته د استقبال معنى اخيستل ترې زيات ښه لګيږي، والله أعلم.

وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَيَعْفُو عَنِ السَّيِّئَاتِ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴿٢٥﴾ وَيَسْتَجِيبُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضْلِهِ ۚ

او الله هغه (مهربان ذات) دی چې قبلوي توبه له بندګانو خپلو، او عفوه کوي له بدو کارونو (د دوی پس له پښېمانۍ) او ورمعلوم دی هر هغه کار چې کوئ يې تاسې. او قبلوي (الله دعاء) د هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی، او کړي يې دي ښه (عملونه) او زيادت کوي (دوی ته) له مهربانۍ خپلې.

تفسير: يعنې نبي د الله تعالى کلام دررسوي، تاسې هغه رښتيا ګڼئ که دروغ؛ وروسته له هغه د بندګانو ګرد معاملات له الله سره دي، له هر يوه بنده سره په دنيا او آخرت کې سم د ده له حال او استعداد سره معامله کيږي، د توبه کوونکو توبه قبوله فرمايي، او سره له دې چې پر هر شي ښه عليم، خبير او پوه دی، له ډېرو بدو معاملو ځخه تيريږي، او ښې يې، هغه ايمان دار او نېک بندګان چې دده خبرې اوري، الله تعالى هم د دوی دعاوې اوري، او د دوی طاعاتو او عباداتو ته د قبول شرف ښې، او د هومره اجر او ثواب استحقاق چې دوی سم له عمومي ضابطې سره لري، هغوی ته پخپل فضل او مرحمت سره له هغه ځخه زيات مرحمت فرمايي.

وَالْكَافِرُونَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهِ لَبَغَوْا فِي الْأَرْضِ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَاءُ ۚ إِنَّهُ بِعِبَادِهِ خَبِيرٌ بَصِيرٌ ﴿٢٧﴾

او کافران چې دي شته دوی ته عذاب ډېر سخت (د دوزخ). او که چېرې پراخه کړي وی الله رزق روزي لپاره د (ټولو) بندګانو خپلو؛ نو خامخا سرکښي به کړې وه دوی په ځمکه کې،

وليکن نازلوي (روزي الله دوی ته) په هغې اندازې چې اراده وفرمايي، بېشکه الله پر بندګانو خپلو ښه خبردار دی، ښه ليدونکی دی.

تفسير: د الله تعالی په خزانو کې د هيڅ يو شي تقليل نشته، که الله تعالی اراده وفرمايي؛ نو خپل ټول بندګان غني ګرځولی شي، ليکن د الله تعالی حکمت د دې خبرې مقتضي نه دی چې ګردو مخلوقاتو ته بې له مېچه او اندازې روزي ورکړي، او ټول په عيش او عشرت کې آرام او هوسا وساتي، که داسې وکړل شي؛ نو بالعموم خلق طغيان او تمرّد اختياروي، او په دنيا کې يو لوی شورماشور جوړيږي، نه به د الله تعالی دربار ته سرونه ښکته کوي، او نه به د مخلوق څه رعايت او خاطر کوي، او نه به پر هغو سامانونو چې هغوی ته ورعطا کيږي خپل قناعت ښکاره کوي، د دوی حرص او طمع به لا زياتيږي، لکه چې مونږ دغه حالت په همدغه موجوده حالت کې بالعموم په هوسا (آرام) او مرفّه الحال اشخاصو کې وينو.

پر دغه يواځې پاک الله ښه پوهيږي او عالم دی، چې د چا په حق کې په کوم حال کې کوم وضعيت او صورت اصلح او اولی دی؟ ځکه چې ګرد ړومبني او وروستني حالات د پاک الله په محيط علم کې حاضر او موجود دي.

وَهُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْ بَعْدِ مَا قَنَطُوا وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهُ ۚ وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٢٨﴾

او الله هغه لوی ذات دی چې نازلوي باران وروسته له هغه چې ناامېده شي (خلق له ورېدلو يې) او خوروي رحمت (باران) خپل (په ټولو ځايونو کې)، او همدی دی ولي، دوست، کار جوړوونکی، ډېر ثنا ويلی شوی.

تفسير: يعنې ډېر کله د ظاهري اسبابو او حالاتو په ملحوظ څه وخت چې خلق له باران او وريا څخه مايوسيږي؛ نو په همدغه وخت کې الله تعالی پخپل فضل او مرحمت سره باران نازلوي، او د خپلې مهربانۍ آثار او د برکاتو علائم څلور خواوو ته خوروي، څو پر بندګانو ثابت شي چې د رزق په شان د رزق اسباب هم د الله تعالی د قدرت په قبضه کې دي، لکه چې الله تعالی په يوې خاصې اندازې سره عطا کوي، باران هم په خاصو اوقاتو او په خاصو مقدار سره مرحمت فرمايي، خبره دا ده چې ګرد کارونه د ده په واک او اختيار کې دي، او هر هغه شی چې دی يې کوي؛ عين د حکمت او صواب دی، ځکه چې ټول محاسن او کمالات د ده په مجمع الصفات ذات کې مجموع دي، او د هر راز کار جوړول امداد او اعانت د همده له درباره کېدی شي.

وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

او ځينې له دلائلو د الله پيدا کول د اسمانونو او د ځمکې (او مافيهما) دي.

تفسير: يعنې هم هغسې چې رزق رسول او د هغه د اسبابو (باران او نورو) مهيأ کول د ده په قبضه او واک کې دي؛ د دغو اسبابو سماويه او ارضيه اسباب او د هغو آثار او نتايج هم د همده مخلوق دي.

وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِنْ دَابَّةٍ ۚ

او (پيدا کول) د هغو اشياوو دي چې خواره کړي يې دي په اسمانونو او په ځمکه کې له دې ذي روح خوځېدونکو.

تفسير: له دغه آيت څخه ظاهراً همدا معلوميږي چې د ځمکې په شان پر اسمانونو هم د ساکنبانو (ذي روحو) په شان کوم مخلوق موجود دی.

وَهُوَ عَلَىٰ جَمْعِهِمْ إِذَا يَشَاءُ قَدِيرٌ ﴿۲۹﴾

او دغه (الله) په جمع کولو (بيا راټولولو) د دوی (محشر ته) هر کله چې اراده وفرمايي؛ ښه قادر دی.

تفسير: يعنې هغه ذات چې دوی يې ګرد خواره واره کړي دي؛ هم هغه کولی شي چې دوی ګرد سره يوځای کړي، او هم دغه به د قيامت ورځ وي.

وَمَا أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَن كَثِيرٍ ﴿۳۰﴾

او هغه څه چې رسيږي تاسې ته (ای مؤمنانو) له کوم مصيبت پس له (شامته) د هغو اعمالو دي چې کړي دي لاسونو ستاسې، او عفوه کوي (الله) له ډېرو (ګناهونو).

تفسير: يعنې هم هغسې چې نعمتونه په يو خاصې اندازې او په خاصو اوقاتو او احوالو په رعايت ورکول کيږي؛ د مصائبو نزول هم د خاصو اسبابو او ضوابطو ما تحت وي، مثلاً بندګانو ته چې کومه سختي او مصيبت وروړاندې کيږي؛ د هغه قريب يا بعيد سبب د همدغو بندګانو ځينې اعمال او افعال وي.

وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ ۖ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿۳۱﴾

او نه يئ تاسې عاجز کوونکي (د الله ای مشرکانو ! په انفاذ د احکامو خپلو سره) په ځمکه کې، او نشته تاسې ته غير له الله هيڅوک ولي دوست کار جوړوونکی، او نه مدد کوونکی (د دفع د عذاب له تاسې نه).

تفسير: يعنې محض پخپلې مهربانۍ سره يې معافوي، که پر هر جرم چې د سزا ورکولو اراده وفرمايي؛ نو مجرم چېرې تر يې تښتېدلی او پټېدلی هم نشي، او له ماسوا الله څخه بل څوک د ده د حمايت او امداد لپاره درېدلی شي؟.

وَمِنْ آيَاتِهِ الْجَوَارِ فِي الْبَحْرِ كَالْأَعْلَامِ ﴿۳۲﴾

او ځينې له دلائلو (د قدرت) د الله روان جهازونه دي په بحر سيند کې په شان د غرونو (په لويوالي کې).

تفسير: لکه چې د ځمکې پر سطح غرونه د باندې وتلي دي، د سمندر لوی لوی جهازونه هم لوړ (اوچت) په نظر راځي.

إِن يَشَأْ يُسْكِنِ الرِّيحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهْرِهِ ۚ

که اراده وفرمايي (الله)؛ نو وبه دروي دغه باد (محرکه قوّت) پس وبه ګرځي (دغه جهازونه) ولاړ په شا د دغه (بحر).

تفسير: يعنې (محرّکه قوه او) هوا هم د الله تعالی په قبضه کې ده، که دغه محرکه قوه او هوا ودروي چې ونه چلېږي؛ نو ټول بادوان لرونکي جهازونه د سمندرو پر شا چېرې چې ولاړ دي هم هغلته به ولاړ وي، الغرض اوبه او هوا اونور ټول شيان د الله تعالی د حکم او د فرمان تابعان دي.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿۳۳﴾

بېشكه په دغه (حركت د جهازونو) كې خامخا لوى دلائل (د قدرت) دي لپاره د هر صبر كوونكي (په مصيبت) شكر كوونكي (په نعمت).

تفسير: د سمندرونو په سفرونو كې د موافق او ناموافق له دواړو قسمو حالاتو سره د مسافرينو سابقه لويږي، نو ځكه دغه امر ډېر ضرور دى، چې انسان پر موافقو حالاتو شاكر، او پر ناموافقو اوضاعو صابر اوسي، او د الله تعالى قدرت او نعمت په ښه شان سره وپېژني، نو كه اراده وفرمايي الله جلّ وعلا شأنُه وعظُم برهانُه:

أَوْ يُوبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوا وَيَعْفُ عَن كَثِيرٍ ﴿۳۴﴾

يا به هلاك (ډوب) كړي دغه (جهازونه) په سبب د هغو ځناهونو چې كړي دي (راكبينو يې)، او عفو كوي (الله) له ډېرو (ځناهونو؛ نو ځكه يې نه غرقوي).

تفسير: يعنې ښايي چې د بعضو مسافرينو د ځينو اعمالو په بدل تباه او مغروق كړل شي، مګر د دغه تباهۍ په وخت كې هم الله دوى معافوي او ښښي يې.

وَيَعْلَمَ الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِنَا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ ﴿۳۵﴾

او چې پوه شي هغه كسان چې مجادلې جګړې كوي په آيتونو ځمونږ كې چې نشته دوى ته هيڅ ځاى د خلاصېدو.

تفسير: يعنې د دې لامله به تباه كړل شي؛ ځو دوى د خپلو ځينو اعمالو بدل ومومي، او خورا ډېر لوى جګړه كوونكي هم وګوري، چې بېشكه د الله تعالى له نيولو څخه هيڅوك نشي وتلى، او نه تښتېدلى شي، او نه چېرې تړې د پټېدو ځاى موندلى شي.

فَمَا أُوتِيتُم مِّن شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَمَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ لِلَّذِينَ آمَنُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿۳۶﴾

پس هغه چې در كړى شوى دى تاسې ته (اى مخاطبانو) له څه څيزه (لكه اسباب د دنيا) لږ خسيس ده (چې زائليږي)، او هغه ثواب چې په نزد د الله دى؛ خير غوره او ډېر باقي پاتې كېدونكى دى لپاره د هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى، او (خاص) پر رب خپل توكل كوي دوى.

تفسير: يعنې د دغو ګردو خبرو له اوربدلو څخه وروسته انسان ته لازم دي چې د الله تعالى د رضاء حاصلولو په فكر كې واوسي، او پر دغه څو ورځني ژوندون او فاني عيش مغرور نه شي، او ښه وپوهيږي چې ايماندارانو ته كوم عيش او آرام چې د الله تعالى له جانبه ورعطاء كيږي، هغه به د دغه دنيوي عيش او آرام څخه ډېر ښه او بادوامه وي، او نه به په هغه كې هيڅ قسم كدورت وي، او نه به يې د فناء او زوال څه اندېښنه وي.

وَالَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ ﴿۳۷﴾

او بل لپاره د هغو كسانو چې ځان ساتي دوى له غټو ګناهونو او له فواحشو (قبائحو نورو ګناهونو نه)، او هر كله چې په غضب شي؛ هم دوى ښښنه كوي.

تفسير: د دې بيان د «النساء» په سورت کې د ﴿إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ﴾ په تفسيرو کې ليکلی شوی دی، هلته دې بيا ولوستل شي !، ښايي دلته له «كبائر الاثم» څخه به هغه لويه ګناه مراده وي چې د نظريه وو قوّت له بدو کارونو څخه پيدا کيږي، مثلاً بدعيه وو عقائدو، او «فواحش» هغه ګناهونه چې په هغو کې د شهوانيه وو قواوو د بې اعتداليو مداخله وي، او په ﴿وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ﴾ کې خو ظاهر دي چې د غضبيه وو قوّت اندفاع او انسداد کړی شوی دی، والله أعلم.

وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ

او بل لپاره د هغو کسانو چې اجابت کوي (د احکامو) د رب د دوی، او قائموي (اداء کوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ، او کار د دوی (په) مشورت (سره) وي په منځ د دوی کې.

تفسير: په مشوره سره کال کول د الله تعالى خوښ دي، اعم له دې چې دغه مشوره په دنيوي امورو کې وي يا په اخروي امورو په شيونو کې وي، رسول الله مبارک د امورو په مهماتو کې برابر له کرامو اصحابو سره مشوره کوله، د جنګونو او نورو امورو په موضوعاتو کې او د ځينو مسائلو او احکامو په نسبت هم بلکه د راشده خلافت بنياد پر همدغې مشورې قائم شوی وو.

وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِينَ إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنْتَصِرُونَ ﴿٣٩﴾

او له ځينو د هغو شيانو چې ورکړي دي مونږ دوی ته؛ نفقه ورکوي (په لاره د الله). او بل لپاره د هغو کسانو کله چې ورسيږي دوی ته ظلم تعدّي له طرفه د (کفارو)؛ نو دوی انتقام اخلي (له هغو متجاوزو خلقو).

تفسير: يعنې چېرې چې معافول مناسب وي؛ معافوي يې، مثلاً د يوه سړي پر يوه حرکت يې غُصه راغله، او هغه سره له ندامته پر خپل عجز او قصور اعتراف وکړ، او دی يې معاف کړي؛ دغه محمود دی، چېرې چې بدل اخيستل مصلحت وي، مثلاً کوم سړی خامخا بې سببه او بې جهته له خلقو سره منګولې لګوي يا خوله اچوي، او په ظلم او زور سره د مخلوق تعجيز او تحقير ته يې ملا ترلې وي، يا د څه نه ويلو او تأديب نه ورکولو څخه د ده حوصله او جرأت لا زيادت مومي، يا ځمونږ له شخصي حيثيت څخه قطع نظر د دين اهانت يا د مسلمينو د جمعيت ذلت په کې متصور وي؛ نو په دغو پاس صورتونو کې دې داسې بدل او انتقام اخلي؛ چې په قدر د هم هغه تېري او زيادت وي، او له جرم څخه زائده سزا نه ورکوي.

وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا

او جزاء د بد کار بدکار دی په شان د هغه (نه زيات).

تفسير: د بدل او انتقام په طور سره کومې بدی چې له چا سره کولی شي، هغه حقيقتًا بدي نه بلکه صورتًا بدي وي، د «سيّئه» اطلاق پر هغه «مشاكلة» کړی شوی ده.

فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴿٤٠﴾

پس هر چا چې عفو وکړه او صلح يې وکړه؛ پس اجر د ده پر الله دی، بېشکه الله نه خوښوي ظالمان (شروع کوونکي په ظلم سره).

تفسير: يعنې ظلم او زيادت د الله تعالى په نزد په هيڅ يوه حالت کې پسند نه دى، ډېر ښه خصلت همدغه دى چې انسان هغومره بدل او انتقام چې اخيستى هم شي له هغه څخه هم منصرف شي، او په دې چې د همدغو تېرېدلو په سبب هغه خبره اصلاح وموميِ.

وَلَمَنِ انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهٖ فَاُولٰٓئِكَ مَا عَلَيْهِمْ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۱﴾

او خامخا هغه څوک چې واخلي حق خپل پس له مظلوموکېدلو د ده؛ پس دغه کسان (چې خپل حق يې اخيستى دى)، نشته پر دوى هيڅ لاره (د معاتبت او ملامتيا).

تفسير: يعنې که مظلوم له ظلم څخه خپل بدل او انتقام اخلي؛ نو په دغه کې پرې هيڅ الزام او ګناه نشته، مګر د هغه معافول او ترې تېرېدل ډېر ښه، احسن او افضل دي.

اِنَّمَا السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ يَظْلِمُوْنَ النَّاسَ

بېشکه همدا خبره ده چې لاره (د معاتبت) پر هغو کسانو ده چې (ابتداء په) ظلم کوي پر خلقو.

تفسير: يعنې ابتداء په ظلم کوي، يا په انتقام اخيستلو کې د خپل استحقاق له حده تجاوز او تېرى کوي.

وَ يَبْغُوْنَ فِى الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۴۲﴾ وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ اِنَّ ذٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۴۳﴾

او سرکښي (تجاوز) کوي په ځمکه کې په ناحقه سره (بې له حجّته)، دغه (ظالمان) شته دوى ته عذاب دردناک. او خامخا هغه څوک چې صبر (او تحمّل يې وکړ په ظلم او آزار) او ښښنه يې وکړه؛ بېشکه دغه (صبر، غفران او عفو) خامخا له عزم الأمور غورو کارونو څخه دى.

تفسير: يعنې د قهر او د غصې ځغمل، او د ايذاء او ضرر ګالل، او د ظالم ښبل او معافول د لوى همّت او د تحمّل او حوصلې کار دى، په حديث کې راغلي دي: «هغه بنده چې ظلم پرې شوى وي، او هغه محض د الله تعالى لپاره ترې تيريږي، او ښبي يې، نو الله تعالى ضرور د هغه عزّت او پت زياتوي، او مدد او اعانت ورسره فرمايي».

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ وَّلِيٍّ مِّنْۢ بَعْدِهٖ ؕ

او هر هغه څوک چې ګمراه يې کړي الله؛ پس نشته ده ته هيڅوک ولي دوست کار جوړوونکى وروسته له (ګمراه کولو د) الله نه.

تفسير: يعنې محض د الله تعالى په توفيق او لاس نيونه انسان ته د عدل، انصاف، صبر او غفران اعلى خصائل حاصلېدى شي، که الله تعالى ده ته د دغو ډېرو ښو اخلاقو په طرف لارښوونه ونه کړي نو څوک به يې لاس ونيسي»، او د دغې سپکتيا او تېټوالي او رسوايى له کندې څخه به يې وويستلى شي؟.

وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ يَقُوْلُوْنَ هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۴﴾

او وينې به ته ظالمان (کافران) هر کله چې ووينې دوى عذاب (په ورځ د قيامت کې)؛ وايي به دوى: آيا شته ببرته تللو (د دنيا) ته کومه لاره (چې نېک عمل وکړو).

تفسير: يعني كومه داسې لاره هم شته چې مونږ په هغې سره بېرته دنيا ته ستانه شو، او دا ځلي له دنيا څخه سره له ښو عملونو بېرته راحاضر شو.

وَتَرَاهُمْ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا خَاشِعِينَ مِنَ الذُّلِّ يَنظُرُونَ مِن طَرْفٍ خَفِيٍّ

او وينې به ته دوی چې وړاندې کولی به شي په دغه اور په دغه حال کې چې ويريدونکي به وي له خواری، ګوري به دوی (دغه اور ته) په کتنې پټې (له ډېر هيبته به د سترګو له کنجونو ورته ګوري).

تفسير: يعني د يوه ډېر ويريدونکي مجرم په شان د ډېر خوف، ذلت او ندامت له سببه به په پټو سترګو سره ګوري، او هيڅا ته به په هسکه غاړه او اوچتو سترګو نه شي کتلی.

وَقَالَ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ الْخَاسِرِينَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

او وايي به هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی (داسې چې) بېشکه زيانکاران هغه کسان دي چې زيان يې رسولی دی نفسونو خپلو ته، او کورنۍ خپلې ته په ورځ د قيامت کې.

تفسير: يعني دغه بدبخت له خپل ځان سره خپل متعلقين او کورنۍ او ګرد يې سپېره او په عذابونو کې اخته کړل، او ټول يې تباه، برباد کړل.

أَلَا إِنَّ الظَّالِمِينَ فِي عَذَابٍ مُّقِيمٍ ﴿۴۵﴾ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنْ أَوْلِيَاءَ يَنصُرُونَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ ۗ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن سَبِيلٍ ﴿۴۶﴾

واوره ! خبردار شه ! چې بېشکه ظالمان په عذاب همېشه کې دي. او نه به وي دغو کفّارو ته هيڅوک له دوستانو چې مدد وکړي له دوی سره (په دفع د عذاب کې) غير له الله، او هر هغه چې ګمراه يې کړي الله؛ پس نه به وي ده ته هيڅ لاره (حق ته په دنيا کې، اوجنت ته په آخرت کې).

تفسير: يعني نه يې په دنيا کې هدايت ورپه برخه کړ، او نه يې په آخرت کې نجات ور په برخه شو.

اسْتَجِيبُوا لِرَبِّكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُ مِنَ اللَّهِ

اجابت وکړئ (ای خلقو !) رب د تاسې ته (په ايمان او توحيد سره) پخوا له هغه چې راشي (هغه) ورځ چې نشته هيڅ رد او دفعه هغې (ورځې) لره له (جانبه د) الله.

تفسير: يعني هم هغسې چې په دنيا کې د عذاب مؤخر کېده او وروسته لوېده؛ په هغه ورځ کې به نه وروسته او نه به ټال خوري (بلکه حتمًا او خامخا عذاب به واقع کيږي).

مَا لَكُم مِّن مَّلْجَإٍ يَوْمَئِذٍ وَمَا لَكُم مِّن نَّكِيرٍ ﴿۴۷﴾

نه به وي تاسې ته هيڅ د پټېدلو (تښتېدلو) ځای په دغه ورځ کې، او نه به وي تاسې ته هيڅ لاره د انکار (له ګناهونو).

تفسير: يعنې له انكار څخه به مو هيڅ فائده نه وررسيږي، او ابن كثير (رحمه الله) داسې معنى كړېده: چې هيڅ يوه داسې موقع به نه پيدا كيږي چې تاسې به هغه نه پټرئ.

فَإِنْ أَعْرَضُوا فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ۖ إِنْ عَلَيْكَ إِلَّا الْبَلَاغُ ۗ

پس كه مخ وګرځوو (دغو مشركانو له دعوته ستا اى ځما رسوله !) پس نه يې لېږلى مونږ ته پر دوى ساتونكى، نشته پر تا مګر يواځې تبليغ (د احكامو دى، او كړى دى دا اى محمده دا كار).

تفسير: يعنې اى محمد صلى الله عليه وسلم ! تاسې د دې خبرې مسؤول او ذمه وار نه يئ چې يواځې هرومرو په جبر او اكراه او زور سره دغه خبره پر هغوى ومنئ، ستاسې فريضه او وظيفه همدا ده چې د الله تعالى پيغام دوى ته ورسوئ چې هغه تاسې اداء كړې ده، او اداء كوئ يې، كه دوى يې نه مني بلا ورپسې، دوى پوهيږي اوجهنّم.

وَإِنَّا إِذَا أَذَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا ۖ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَإِنَّ الْإِنْسَانَ كَفُورٌ ﴿٤٨﴾

او بېشكه مونږ كله چې وځكوو (جنس) د انسان ته له طرفه خپله كوم رحمت (لكه غناء او صحّت)؛ نو خوشاله شي دى په هغه، او كه ورسيږي دوى ته كوم قسم بدي (لكه مرض يا فقر) په سبب د هغو بديو چې پخوا ليږلي دي لاسونو د دوى؛ بېشكه چې (جنس د) انسان ناشُكره دى (چې نعمت هيروي، زحمت يادوي).

تفسير: يعنې تاسې د دوى د مخ اړولو او اعراض څخه مخه خفه كېږئ !، د انسان طبيعت همداسې واقع شوى دى «الا من شاء الله» چې: پاك الله پرى نعمت، احسان او انعام وفرمايي؛ نو دى له هغه سببه تكبر، لويي، فخر او غرور پيدا كوي، بيا هر چېرې چې ده ته د ده د بدو اعمالو له شامته كوم مصيبت، نقص، او ضرر واقع كيږي؛ نو بيا هغه ګرد نعمتونه او احسانات يې له ياده وځي، او هيروي يې، او داسې منكر او ناشُكره كيږي چې ګواكې پرې نبه وخت له سره نه وو تېر شوى، هو ! د قانتينو مؤمنينوشان همداسې او طريقه همداسې ده، چې په سختى او مصيبت كې صبر، او د وسعت او پراخى په حالت كې د حقيقي منعم شكريه اداء كوي، او په هيڅ حالت كې د الله تعالى انعامات او احسانات نه هيروي، او له ناشكرى ځنې ځان بچ كوي.

لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُورَ ﴿٤٩﴾
أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا ۖ وَيَجْعَلُ مَنْ يَشَاءُ عَقِيمًا ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾

خاص الله لره دى سلطنت باچايي د اسمانونو او د ځمكې، پيدا كوي (الله) هر هغه شى چې اراده وفرمايي، بښي لپاره د هر هغه چا چې اراده وفرمايي لونې، او بښي (الله) لپاره د هر هغه چا چې اراده وفرمايي ځامن، يا جوړه وركوي دوى ته (الله) ځامن او لونې، او ګرځوي هر هغه څوك چې اراده وفرمايي (الله) شنډه، بېشكه دغه (الله) دى نبه عالم (په فائدې د هر چا) نبه قادر.

تفسير: يعنې سختي وي يا نرمي وي؛ ګرد احوال د الله تعالى له لوري ليږلى شوي دي، په اسمان او ځمكه او پر هر شي د هم هغه سلطنت دى، او د همده حكم چليږي، د هر هغه شي اراده چې وكړي؛ هم هغه پيدا كوي، او د هر چا لپاره چې د هر شي د اعطاء اراده وفرمايي؛ ورعطا كوي يې، او هر چاته چې د عدم الاعطاء اراده وفرمايي؛ نه يې وركوي، د دنيا دغه رنګ په رنګ حالاتو ته وګورئ چې مثلاً يو له سره اولاد نه لري، او دويم تش لونې لري، دريېم تش ځامن لري، څلورم هم ځامن او هم لونې لري، جوړه جوړه يا جلا جلا په دغه كې هيڅ دعوى نه ده، هم هغه حقيقي

مالك پوهيږي چې د کوم يوه سړي په کوم حالت کې ساتل مناسب دي، او همدی سم له خپل علم او حکمت سره تدبير کوي، هيڅا ته د دغې خبرې قوّت او مجال نشته چې د الله تعالى د ارادې مخه ونيسي، يا د الله تعالى پر تخليق او تقسيم څه تنقيد اعتراض وکړی شي، د عاقل کار دا دی چې په هر قسم تودو او سړو حالاتو کې د هم هغه الله په طرف رجوع وکړي، او تل دې خپل ناچيز حقيقت تر خپل نظر لاندې ونيسي !، او د تکبّر او د نعمت له کفرانه دې خپل ځان وساتي !.

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاءُ

او نه ښايي لپاره د هيڅ بشر دا چې خبرې وکړي له ده سره الله مګر په وحي سره (په خوب کې، يا په الهام سره) يا وروسته له پردې څخه، يا وليږي (الله) کوم رسول استاځی (له ملائکو لکه جبريل)، پس وحي يوسي په اذن حکم د الله سره هغه چې اراده وفرمايي (الله).

تفسير: هيڅ يو انسان پخپل عنصري خلقت او د موجوده وو قواوو په اعتبار د دې خبرې طاقت نه لري، چې له الله قدّوس سره په دغې دنيا کې مخامخ شي، او ورسره بالمشافهه کلام وفرمايي، او دی يې تحمل وکړی شي، نو ځکه د کوم بشر له الله تعالى سره خبرې او کلام کول درې صورتونه لري:

لمړي: چې الله تعالى د کوم يو نبي کريم عليه السلام په زړه کې خبره واچوي، چې هغه په دې شک نه کوي چې دا د الله تعالى له خوا ده.

دوهم: دا چې د پردې تر شا الله تعالى د کوم نبي سره خبرې وکړي، لکه چې الله تعالى د موسى عليه السلام سره خبرې کړې وې.

دريم : دا چې پرښته ورته راشي، او د الله تعالى کلام او پيغام ورته ورسوي، لکه چې جبريل او نورې پرښتې به انبياوو ته راتللې.

إِنَّهُ عَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿٥١﴾

بېشکه دغه (الله) ډېر پورته دی، ښه حکمت والا دی (په صنعت خپل کې).

تفسير: يعنې د الله تعالى علوّ له دې نه مانع دی چې بې حجابه خبرې وکړي، او حکمت يې د دې مقتضي دی چې په ځينو صورتونو کې د هم کلامي صورت اختيار کړي.

وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا

او همداسې (لکه چې وحي مو کړې وه نورو انبياوو ته) وحي راولېږله مونږ تا ته (ای محمده !) روح (قرآن، پرښته) په امر حکم خپل سره.

تفسير: د قرآن څخه يې په روح سره تعبير فرمايلی، ځکه چې د پاک قرآن له تأثيره ډېر زړونه ژوندي کيږي.

مَا كُنْتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ

نه وې ته چې پوهېدې چې څه دی کتاب؟، او نه (پوهېدې په دې چې څه شي دي شرايع او) ايمان.

تفسير: يعني ايمان او د ايمانيه وو اعمالو دغه تفاصيل چې د وحي په ذريعه اوس معلوم شوي دي، پخوا له دې نه چېرې معلوم وو، اګر که په نفس الايمان سره تل تر تله متّصف وو.

وَلَٰكِن جَعَلْنَٰهُ نُورًا نَّهْدِى بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ۚ

وليکن ګرځولی دی مونږ دغه (روح، کتاب، ايمان) داسې يوه رڼا چې سمه لاره ښيو په هغه سره هغه چاته چې اراده وفرمايو مونږ له بندګانو خپلو.

تفسير: د پاک قرآن په رڼا کې د هر هغو بندګانو په نسبت چې مونږ اراده وکړو؛ نو هغوی د سعادت او فلاح پر لارې بيايو.

وَإِنَّكَ لَتَهْدِىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٢﴾

او بېشکه ته خامخا ښودل کوې (خلقو ته) په طرف د لارې مستقيمې برابرې.

تفسير: يعني تاسو خو ټولو بندګانو ته د پاک قرآن په ذريعه تر الله تعالى پورې د رسېدلو سمه صافه لاره ورښيئ، اعم له دې چې څوک پر هغې لارې شي که لارې نشي.

صِرَٰطِ ٱللَّهِ ٱلَّذِى لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ

سمې لارې د هغه الله ته چې خاص ده لره دي هر هغه شيان چې په اسمانونو کې دي (له علويّاتو) او هر هغه شيان چې په ځمکه کې دي (له سفليّاتو سره له اسمانونو او ځمکې خلقًا ملګًا عبيدًا).

تفسير: يعني سمه صافه لاره هغه ده چې پر هغې باندې له تللو څخه انسان تر واحد الله تعالى پورې ورسېدى شي، هر څوک چې له دې لارې څخه بې لارې شي؛ نو هغه له الله تعالى ځنې ببل پاتې کيږي.

أَلَآ إِلَى ٱللَّهِ تَصِيرُ ٱلْأُمُورُ ﴿٥٣﴾

واوره ! خبردار اوسه ! خاص الله ته ببرته ګرځي ټول کارونه (د مخلوقاتو په قيامت کې).

تفسير: يعني کله چې د ګردو کارونو انجام د هغه په طرف دى؛ نو ښايي چې انسان له شروع څخه د عاقبت په فکر او ذکر کې اوسي، او پخپل اختيار سره پر داسې يوې لارې لارې شي؛ چې هغه سم ورورسيږي، اللّهم اهدنا الصراط المستقيم، وثبتنا عليه.

تمّت سورة الشورىٰ بعون الله وتوفيقه، فله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الزُّخرُف

«د (الزخرف) سورت مکّي دی، پرته له (۵۴) آیت څخه چې مدني دی، (۸۹) آیت او (۷) رکوع لري، په تلاوت کې (۴۳) او په نزول کې (۶۳) سورت دی، وروسته له «الشوری» څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

حٰمٓ ﴿۱﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِينِ ﴿۲﴾ إِنَّا جَعَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿۳﴾

قسم دی په دغه کتاب روښان بیانوونکي. چې بېشکه مونږ ګرځولی مو دی دغه (کتاب) قرآن په عربي ژبه لپاره د دې چې تاسې پرې وپوهېږئ (عقل په کې وچلوئ).

تفسیر: ځکه چې عربي ژبه ستاسې مورنۍ ژبه ده، او ستاسې په ذریعه به د دنیا نور اقوام هم دغه کتاب زده کوي، او پرې پوهیږي به.

وَإِنَّهُۥ فِىٓ أُمِّ الْكِتٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِىٌّ حَكِيمٌ ﴿۴﴾

او بېشکه دغه کتاب (ثابت دی) په اصل د کتاب (لوح محفوظ) کې په نزد ځمونږ خامخا خاوند د لویې مرتبې ډېر مستحکم دی.

تفسیر: یعنې دغه پاک قرآن د اعجاز پر وجوه او پر عظیمه وو اسرارو د اشتمال له وجې نهایت لوړه مرتبه لری او له تبدیل او تحریف څنې د محفوظیت او مصئونیت له سببه نهایت مستحکم دی.

تنبیه: قرآن او نور سماوي کتابونه پخوا له نزوله په لوح محفوظ کې لیکلي شوي دي.

أَفَنَضْرِبُ عَنكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا أَن كُنتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِينَ ﴿۵﴾

آیا پس بند کړو (وګرځوو) له تاسې دغه ذکر پند (قرآن) بندبدل (ګرځېدل) له دې سببه چې یئ تاسې یو قوم مسرف له حده تېرېدونکی.

تفسیر: شاه صاحب (رحمه الله) لیکي: «له دې سببه چې تاسې حکم نه منئ؛ نو آیا مونږ به د حکم لېږل موقوف کړو؟» یعنې دغسې توقّع له سره مه کوئ ! د الله تعالی حکمت او رحمت د دې خبرې مقتضي دی چې سره د دغو زیاداتو، تجاوزاتو، او شرارتونو چې ستاسې له خوا کیږي؛ د الله تعالی د کتاب نزول او د تبلیغ دعوت، نصیحت، او د پند سلسله ونه ترله شي، ځکه چې ډېر نور سعید ارواح له هغه څخه مستفید کیږي، او پر منکرانو په کامل طور سره د حجّت اتمام کیږي.

وَكَمْ أَرْسَلْنَا مِن نَّبِىٍّ فِى الْأَوَّلِينَ ﴿۶﴾ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن نَّبِىٍّ إِلَّا كَانُوا بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿۷﴾

او څومره ډېر مو لیږلي دي له انبیاوو څخه په پخوانیو (خلقو کې). او نه به راته دوی ته هیڅ نبي مګر وو به هغوی چې په هغه (نبي) پورې به یې مسخرې کولې.

تفسیر: یعنې له پخوانیو انبیاوو سره هم داسې استهزاء کړی شوې وه، او د هغو تعلیماتو ته د دروغو نسبت کړی شوی وو، مګر د دغې استهزاء او تکذیب له وجې د نبوّت سلسله ونه ټرله شوه.

فَأَهْلَكْنَآ أَشَدَّ مِنْهُم بَطْشًا وَمَضَىٰ مَثَلُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٨﴾

پس هلاک کړل مونږ (پخواني خلق چې) سخت تر (وو) له دوی نه له جهته د قوت، او تیر شوی دی (څو ځایه په قرآن کې) مثل صفت د ړومبنیو خلقو (چې اهلاک او تعذیب وو).

تفسیر: یعنې د عبرت لپاره د هغو مکذبینو د تباهۍ او هلاک مثالونه وړاندې کړی شوي دي، او پخوا له دې نه مذکور شوي دي، چې په زور او په قوّت کې له تاسې څخه ډېر زیات وو، کله چې هغوی د الله تعالی له عذابه نجات ونه موند؛ نو تاسې په څه شي مغرور یئ؟ وروسته له دې نه د الله تعالی د هغه عظمت او قدرت، او د تصرّف د کمال ذکر راځي، چې تر یوې اندازې پورې د دوی په نزد هم منلی شوی او مسلّم وو.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٩﴾ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ مَهْدًا وَجَعَلَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠﴾

او قسم دی خامخا که چېرې پوښتنه وکړې ته له دغو کفارو چې څوک دی هغه ذات چې پیدا کړي یې دي اسمانونه او ځمکه؟ نو خامخا وبه وایي دغه کفار هرومرو چې: پیدا کړي دي (ټول هغه الله چې) ښه غالب قوي دی (په انفاذ د احکامو) ښه عالم دی. هغه (ذات) چې ګرځولې یې ده تاسې ته ځمکه فرش (ځای د قرار) او ګرځولې (یې) دي تاسې ته په دغې ځمکې کې لارې لپاره د دې چې تاسې سمه لاره وموموئ (مقاصدو خپلو ته).

تفسیر: یعنې تر هغه ځایه پورې چې انسان هلته هستوګنه کوي، او یو له بل سره ګوري اوتګ راتګ کوي، او پخپلو منځونو کې سره لارې لري، او په دغه تللو راتللو سره په دنیوي او اخروي مقاصدو کې د بري او کامیابۍ لارې ځان ته معلومې کړي.

وَٱلَّذِى نَزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ

او (هغه) ذات چې نازلې کړې یې دي له (طرفه) د اسمانه اوبه په اندازه سره.

تفسیر: یعنې په یوه مخصوص مقدار چې د ده له حکمت سره مناسب او د ده په علم کې مقدر وو.

فَأَنشَرْنَا بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا كَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴿١١﴾

پس ژوندی کړې ده مونږ په دغو اوبو سره کلي مړه (وچې کلکې ځمکې) په شان (د دغه ژوندې کېدلو د ځمکې)؛ راوبه ایستل شئ تاسې (هم بیا ژوندي له قبورو).

تفسیر: یعنې څرنګه چې په وچې کلکې مړې ځمکې کې د باران د اوبو په وسیله نوی ژوندون او حیات پیدا او تکه شنه ودانه او زرغونه کوي یې، همداسې په مړو اجسامو کې هم روح غورځوي، او بیا مو له مقابرو څخه ژوندي راپاڅوي.

وَٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْأَزْوَٰجَ كُلَّهَا

او (هغه) ذات چې پیدا کړي یې دي اصناف (او انواع د مخلوقاتو) ټول د دوی.

تفسیر: یعنې په دنیا کې د هومره اشیاوو جوړې چې دي، او د مخلوقاتو هومره اقسام او متماثل یا متقابل انواع چې دي؛ د هغو ګردو خالق الله تعالی دی.

وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْفُلْكِ وَالْأَنْعَامِ مَا تَرْكَبُونَ ﴿۱۲﴾ لِتَسْتَوُوا عَلَىٰ ظُهُورِهِ

او ګرځولي یې دي تاسې ته له بېړیو (جهازونو) او له چارپایانو هغه چې سور ېړئ تاسې پرې (په لونده او وچه کې). لپاره د دې چې سم برابر کېنئ تاسې پر شاوو (د هر یوه) د هغه.

تفسیر: یعنې په وچه کې د ځینو چارپایانو پر شاوو او په بحر (سیند) او فضاء او نورو کې د بېړئ او جهازونو او طیارو او نورو مراکبو پر شاوو سوریږئ.

ثُمَّ تَذْكُرُوا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُولُوا سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ﴿۱۳﴾

بیا یاد کړئ (قلبًا) تاسې نعمت د رب خپل کله چې برابر کېنئ (سواره شئ) پر هغه، او ووایئ تاسې: پاکي ده هغه (لوی ذات) ته چې مسخّر کړي یې دي مونږ ته دغه (مذکور له مراکبو) او نه وو مونږ ده لره په ضبط (او قید) کې راوستونکي (په وس خپل).

تفسیر: یعنې پر حیواناتو یا کښتیو او جهازونو او نورو نقلیه وو وسایلو باندې د سور ېدلو په وخت د الله تعالی د هغه انعام او احسان یادونه پخپلو زړونو کې وکړئ چې الله تعالی مونږ ته دومره عقل، پوهه، تدبیر، قوّت، او قدرت او نور رابښلي دي چې پخپل عقل او تدبیر او نورو سره دغه شیان مونږ تر خپلې اداړې لاندې راوستلي دي، دغه محض د الله تعالی فضل او احسان دی، که نه په مونږ کې دومره قدرت، او طاقت کوم دی چې داسې شیان مو قابو کړي وی، لازم دي چې په ژبه سره هم پر نقلیه وو وسایلو د سور ېدلو په وخت کې دغه الفاظ ووایئ: ﴿سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ * وَإِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ﴾ نور اذکار او ادعیه هم په احادیثو کې راغلي دي، چې د حدیث او تفسیر په کتابونو کې مذکور دي.

وَإِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴿۱۴﴾

او بېشکه چې مونږ رب خپل ته خامخا بېرته ورتلونکي یو.

تفسیر: یعنې د دغو سفرونو په تقریب د آخرت د سفر په یادونه کې ولو ېږئ، رسول الله صلی الله علیه وعلی آله وصحبه وسلّم خو د سور ېدلو په وخت هم دغه تسبیح فرمایله.

وَجَعَلُوا لَهُ مِنْ عِبَادِهِ جُزْءًا ۚ إِنَّ الْإِنسَانَ لَكَفُورٌ مُّبِينٌ ﴿۱۵﴾ أَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنَاتٍ وَأَصْفَاكُم بِالْبَنِينَ ﴿۱۶﴾

او ګرځوي (مقرروي کفّار) الله ته له بندګانو د ده یوه برخه (اولاد چې ملائکو ته د الله لونې وایي)، بېشکه چې (کافر) انسان خامخا ناشکره دی ښکاره. آیا ووایئ تاسې چې (الله) نیولی دی له هغه مخلوقه چې پیدا کوي یې لونې (چې اخس او ادنی دي؟) او غوره کړي یې یئ تاسې په ځامنو (چې اشرف او اعلی دي له لونې نه).

تفسیر: یعنې لازم خو داسې وو چې د الله تعالی نعمتونه به یې پېژندلي او د هغو شُکریه به یې اداء کړې وه، دوی صریحې ناشکرۍ ته اوښتي وو، او د الله تعالی دربار ته سپین سترګي او ګستاخي کوي، له دې نه لویه ګستاخي او ناشکري به

څه وي چې د هغه لپاره د اولاد تجويز وکړی شي، او هغه هم له بندګانو څخه، او هغه لونې، اول: اولاد د مور او پلار د وجود يو جزء وي، نو قدّوس الله ته د اولاد د تجويز کولو معنی دا ده چې ګواکې دی له اجزاوو څخه مرکّب دی، او د مرکّب حدوث ضروري دی، دويم: په ولد او والد کې ښايي چې مجانست وي، که دواړه له يوه جنسه نه وي؛ نو د ولد يا والد په حق کې عيب دی، دلته د خالق او مخلوق په منځ کې د مجانست تصور هم نشي کېدی، درېيم: جونې د جسمي او عقلي قواوو په اعتبار د هلکانو په نسبت عمومًا ناقصې او کمزوې وي، ګواکې معاذ الله که الله تعالی د خپل ځان لپاره اولاد هم اختيار کړی وي، هغه هم ټيټ او ناقص، آيا تاسې ته شرم نه درځي چې پخپلو برخو او حصو کې عُمده او اعلی شيان، او د الله تعالی په حصه کې ناقص او ټيټ شيان راوباسئ، او مقرروئ يې.

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمَٰنِ مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿١٧﴾

حال دا چې، هر کله چې زېری ورکړ شي يو د دوی ته په (تولد د) هغه (لور) سره چې ګرځولی يې دی رحمن ته په مثل (او شبيه دهغې؛ نو) وګرځي مخ د ده تک تور (له ډېره غمه) حال دا چې دی به ډک وي له غمه.

تفسير: يعنې هغه اناثيه اولاد چې د الله تعالی لپاره دوی تجويز کړي دي، هغه د دوی په زعم کې داسې عيب دار او ذليل او حقير دي، چې که پخپله دوی ته د هغه د تولّد زېری ورکړی شي؛ نو له ډېره رنځ او خفګانه د دوی مخ تک تور اوړي، او وضعيت يې سخت تغير مومي، او پخپل زړه کې سخت پيچونه او تاوونه خوري، د دې پوره تقرير د «صافات» د سورت په آخرې رکوع کې پخوا له دې لېکلی شوی دی.

أَوَمَن يُنَشَّأُ فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِينٍ ﴿١٨﴾

آيا (مقرروي دوی الله ته) هغه څوک چې لويولی شي په ګاڼو کې حال دا چې هغه په وخت د جګړو کې نشي ښکاره کولی (بيانولی مطلب خپل).

تفسير: آيا الله تعالی خپل اولاديت ته جونې غوره کړي دي؟ چې عادتًا په ډول او سينګار سره نشو او نما مومي، د ګاڼو او زېورو په شوق کې مستغرقې اوسي، چې د دوی د رايې او عقل پر ضعف باندې دليل دی، او دوی د فکريه قوّت له ضعفه د مباحثې په وخت کې بيانيه قوّت هم ونه لري، لکه د ښځو په تقريرونو کې چې څوک لږ څه غور وکړي؛ نو ګوري به چې دوی نه خپله دعوی په کافي بيان سره ثابتولی شي، او نه د نورو دعاوی ماتولی شي، او تل ناقصې او ناتمامې خبرې کوي، او نورې داسې فضولې او چټې (بېکاره) خبرې له هغې سره ګډوي، چې له هغه موضوع سره به بيخي څه علاقه او تناسب نه لري.

وَجَعَلُوا الْمَلَائِكَةَ الَّذِينَ هُمْ عِبَادُ الرَّحْمَٰنِ إِنَاثًا ۚ

او ګرځوي (کفّار) پرښتې هغه چې دوی عباد الرحمن د الله بندګان دي؛ ښځې (لونې د الله).

تفسير: يعنې دغه د دغو مشرکانو يو بل دروغ دي چې پرښتې د ښځو په وصف کې داخلوي، حال دا چې پرښتې نه د ښځو او نه د نارينه وو له جنسه دي، بلکه دوی د الله تعالی يو بېل عليحده مخلوق ده.

أَشَهِدُوا خَلْقَهُمْ ۚ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ وَيُسْأَلُونَ ﴿١٩﴾

آيا حاضر وو (دغه کفّار په وخت د) پيدا کولو د دغو پرښتو کې (چې ښځې لونې پيدا شوي دي)؟ ژر ده چې وبه ليکلی شي شاهدي د دوی او پښتنه به هم ترې وکړه شي (په آخرت کې).

تفسیر: یعنې کوم یو عقلي یا نقلي دلیل خو له دوی سره د دغې دعوی د اثبات لپاره نشته، نو آیا دوی په هغه وخت کې چې الله تعالی پرښتې پیدا کولې ورته ولاړ وو؟ او دوی پخپلو سترګو پرښتې لیدلي دي چې پرښتې نارینه نه دي ښځې دي؟ښه دی، د دوی دغه شهادت د اعمالو په دفتر کې لیکلی کیږي، څه مهال چې دوی به د الله تعالی د عدل او انصاف په دربار کې وړاندې کیږي؛ نو هلته به د دې موضوع په نسبت هم له دوی نه پوښتنې کیږي، چې تاسې ولې داسې خبرې کولې، او له کومه تاسې ته دا معلومات په لاس درغلي وو؟.

وَقَالُوا لَوْ شَاءَ الرَّحْمَٰنُ مَا عَبَدْنَاهُمْ ۗ

او وایي (دغه مشرکان) که اراده فرمایلي وی رحمن؛ نو عبادت به مو نه وی کړی د دغو (باطلو معبودانو).

تفسیر: یعنې دوی د خپلو دغو د شرک، بې ادبۍ او ګستاخۍ په جواز او استحسان کې یو داسې عقلي دلیل هم وړاندې کوي، چې که الله تعالی اراده کړي وی؛ نو مونږ ته به یې موقع نه راکوله چې له ماسوا الله څخه د نورو شیانو عبادت وکړو، او هرومرو به یې ځمونږ مخه نیوه، کله چې مونږ برابر پر خپل همدغه دود او دستور دوام کوو چې هغه یې ګوري؛ نو ثابت شو چې دغه کار بهتر او د ده خوښ دی، نو الله تعالی د مشرکانو د دغې وینا تردید داسې فرمایي:

مَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿٢٠﴾

نشته دوی ته په دغې (وینا خپلې) هیڅ قسم علم، پوه نه دي دوی مګر دروغ وایي (خوشې چتي) اټکلونه چلوي (ځکه چې الله راضي نه دی په کُفر).

تفسیر: یعنې دغه خبره خو رښتیا ده چې بې د الله تعالی له ارادې څخه هیڅ شی نشي کېدی، لیکن د کوم شي نښګنه (فائده) او بهتري ځمونږ لپاره له دې نه نه ثابتیږي، او که داسې وي؛ نو په دنیا کې به هیڅ کار بېکاره او هیڅ شی خراب او بد نه پاتې کېده، او په ګرد جهان کې به محض خیر وه او بس، او د شر تُخم به له سره نه پیدا کېده، او هر یو دروغجن ظالم او مکار به همداسې وایي: که د الله تعالی اراده نه وی؛ نو زه به یې نه پرېښودم، چې داسې ظلم او تېری به مې کاوه، او کله یې چې ماته د ظلم، ستم، او تیري موقع راکړه؛ نو معلومه شوه چې دی په دغه کار خوښ او راضي دی، په هر حال په مشیت او رضاء کې د لزوم ثابتول کوم علمي اصول نه دي، او محض د ګمان او اټکل غشي دي، چې د هغه بیان (د ۸ جزء د الأنعام سورت په (۱۸) رکوع (۱۴۸) آیت) کې) د دغه آیت په تفسیر کې پخوا لیکلی شوی دی: ﴿سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا أَشْرَكْنَا﴾.

أَمْ آتَيْنَاهُمْ كِتَابًا مِّن قَبْلِهِ فَهُم بِهِ مُسْتَمْسِكُونَ ﴿٢١﴾ بَلْ قَالُوا إِنَّا وَجَدْنَا آبَاءَنَا عَلَىٰ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰ آثَارِهِم مُّهْتَدُونَ ﴿٢٢﴾

آیا ورکړی مو دی دوی ته کوم کتاب پخوا له دغه (قرآن) پس دوی په هغه کتاب منګلې خښوونکي (حجّت نیوونکي دي. نه ده داسې) بلکه وایي دغه مشرکان بېشکه مونږ موندلي مو دي پلرونه خپل پر یوې لارې (دین) او بېشکه مونږ پر قدمونو د دوی لاره موندونکي تلونکي یو، (یعنې د هم هغو خپلو پخوانیو په پلونو ځو، او د غیر الله عبادت کوو).

تفسیر: د عقلي دلیل حال خو مو واورېد، آیا ماسوا له هغه څخه بل کوم نقلي دلیل پخپلې دعوی باندې وړاندې کولی شئ؟ یعنې د الله تعالی له منزله وو کتابونو څخه کوم کتاب د دوی په لاس کې شته؟ چې په هغه کې د

شرک غوره والی لیکل شوی وي؟ ظاهر دی چې داسې کوم سند له دوی سره نشته، نو ماسوا له دې نه چې د خپلو پلرونو او نیکونو رُوند تقلید دلیل وړاندې کړي؛ بل څه شی له دی سره نه دی پاتې شوی، همدغه د دوی له ګردو څخه زبردست دلیل دی چې د هرې زمانې مشرکانو به همدغه دلیل وړاندې کاوه، چې وروسته له دې نه د همدغه بیان دی.

وَكَذَٰلِكَ مَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٖ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّقۡتَدُونَ ٢٣ قُلۡ أَوَلَوۡ جِئۡتُكُم بِأَهۡدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمۡ عَلَيۡهِ ءَابَآءَكُمۡۖ

او همداسې (ستا په شان) نه وو لېږلی مونږ پخوا له تانه په هیڅ قریه کلي کې کوم ویروونکی (له عذابه یعنې نبي)؛ مګر وبه ویل هوسا او نعمت لرونکیو (خلقو د هغو کلیو): بېشکه مونږ چې یو موندلي مو دي پلرونه خپل پر یوې لارې، او بېشکه مونږ پر قدمونو د دوی اقتداء کوونکي تلونکي یو. وبه ویل (نبي دوی لره) آیا (کوئ تاسې متابعت د پلرونو خپلو) اګر که راتله کړي دي ما تاسې ته په ښه لاره ښوونکي له هغه شي څخه چې موندلي دي تاسې پر هغه شي باندې پلرونه خپل؟.

تفسیر: یعنې نبيّ الله فرمایلي دي چې: ستاسې د پلرونو او د نیکه ګانو له لارې څخه بهتره یوه ښه سمه صافه لاره تاسې ته درښیم، خو آیا تاسې سره له هغه د خپل هغه پخواني جهل او عناد څخه مخ اړوئ؟.

قَٰلُواْ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ٢٤

وبه ویل دوی: بېشکه مونږ چې یو په هغه (دین) چې لېږلي شوي یئ تاسې په هغه سره کافران یو.

تفسیر: یعنې هر څه چې وي؛ مونږ ستاسې خبرې نشو منلی، او له خپل هغه پخواني دود او دستور څخه چې له پلرونو او نیکه ګانو څخه راته پاتې شوی دی؛ نشو ګرځېدی.

فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ٢٥ وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦٓ إِنَّنِي بَرَآءٞ مِّمَّا تَعۡبُدُونَ ٢٦ إِلَّا ٱلَّذِي فَطَرَنِي فَإِنَّهُۥ سَيَهۡدِينِ ٢٧

پس انتقام مو واخیست له دوی نه، پس وګوره چې څرنګه وو عاقبت آخره خاتمه د دروغجن ګڼونکیو (انبیاوو خپلو ته). او (یاد کړه) هغه وخت چې وویل ابراهیم پلار خپل (آزر) ته، او قوم خپل (نمرودیانو) ته چې بېشکه زه بېزاره یم له هغو بتانو چې تاسې یې عبادت کوئ. مګر هغه الله چې پیدا کړی یې یم زه، پس بېشکه چې هغه (الله) به ثابت لري ما په هدایت (او دین خپل) باندې.

تفسیر: یعنې صرف له یوه پاک الله سره ځما علاقه ده، چې هغه ځما خالق دی، او هم هغه مې د مقصود منزل پر لاره تر آخره پورې بیایي.

تنبیه: دلته یې دغه قصه پر دې بیان فرمایلې ده چې وګورئ ستاسې مسلم پلار او پېشوا کله چې د خپلو پلرونو لاره غلطه وموندله؛ هغه یې پرېښوده، تاسې هم هغسې وکړئ !.

وَجَعَلَهَا كَلِمَةً بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿۲۸﴾

او ګرځولې وه (ابراهيم) دغه کلمه (د توحيد) باقي پاتې کيدونکې په پښت اولاد خپل کې، لپاره د دې چې دوی ببرته راوګرځي (توحيد ته له شرکه).

تفسير: يعنې د ابراهيم عليه السلام اولاده دې يو له بل څخه د توحيد بيان او دلائل واوري، او د حق د لارې په طرف دې رُجوع وکړي.

بَلْ مَتَّعْتُ هَٰؤُلَاءِ وَآبَاءَهُمْ حَتَّىٰ جَاءَهُمُ الْحَقُّ وَرَسُولٌ مُّبِينٌ ﴿۲۹﴾

(دوی هم هغسې ونه کړ) بلکه نفعه ورکړې وه ما دغو (مشرکانو) ته او پلرونو د دوی ته تر هغه پورې چې راغی دوی ته حق (دين قرآن) او رسول (محمد) ښکاره بيانوونکی (د شرعي احکامو دوی لره).

وَلَمَّا جَاءَهُمُ الْحَقُّ قَالُوا هَٰذَا سِحْرٌ وَإِنَّا بِهِ كَافِرُونَ ﴿۳۰﴾

او څه وخت چې راغی دوی ته حق (دين، قرآن)؛ وويل (کفّارو) دا سحر (کوډې) دي، او بېشکه مونږ پر دغه قرآن کافران يو (او نه يې منو).

تفسير: يعنې پاک قرآن ته يې د جادو او کوډو نسبت وکړ، او د انبياء الله د کلام له منلو څخه منکران شول.

وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا الْقُرْآنُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ﴿۳۱﴾

او وويل (کُفّارو) ولې نه نازلوه شي دغه قرآن پر يوه سړي له دغو دوو قريو څخه (چې مکه او طائف دی، چې دغه سړی) هم ډېر لوی دی (لکه وليد په مکه کې، او عروه په طائف کې)؟.

تفسير: يعنې که خامخا د قرآن نزول د پاک الله مقصود وو؛ نو ښايي چې هغه يې د معظمې مکې يا د طائف پر کوم مشر نازلوه، دغه څرنګه د باور کولو وړ (لايق) دي چې لوی لوی، غټان، مشران او د مالونو د شتو خاوندان څخه پاک الله منصرف شوی دی، او د رسالت د لوی منصب لپاره يې داسې يو سړی غوره او منتخب فرمايلی دی چې د دولت او رياست په اعتبار د هيڅ يو امتياز خاوند نه دی.

نو پاک الله جلّ وعلا شأنُه وأعظم برهانُه جوابًا د دوی په رد کې داسې فرمايي:

أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ۚ

آيا دوی تقسيموي رحمت (نبوّت) د رب ستا (لکه چې دوی وايي)؟.

تفسير: يعنې آيا د نبوّت او د رسالت د مناصبو تقسيم ستاسې په لاس کې درکړی شوی دی چې د هغه پر انتخاب داسې مباحثې کوئ؟.

نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُم بَعْضًا سُخْرِيًّا ۗ

(نه ده داسې، بلکه پخپله) مونږ ويشلی قسمت کړی مو دی په منځ د دوی کې معيشت د دوی په دغه ژوندون لږ کې، او پورته کړي مو دي ځينې د دوی له پاسه د ځينو نورو په مرتبو کې د دې لپاره چې ونيسي ځينې د دوی (چې غنيان دي) ځينې نور (چې فقيران دي) تابعان کار کوونکي.

تفسير: يعنې ځينې يې غني او شتمن او ځينې يې فقيران او خوار ګرځولي دي، يوه ته يې بې حسابه دولت ورکړی دی، او بل ته يې له هغه ځخه لږ، ځوک يې مسخر تابع او مطيع ګرځولي دي، او ځوک يې متبوع او مطاع.

وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿۳۲﴾

او رحمت د رب ستا (جنّت) خير ډېر غوره دی له هغو (اموالو) چې ټولوي يې دوی (په دنيا کې).

تفسير: يعنې د نبوّت او د رسالت شرف خو د ظاهري مال او جاه او د دنيوي ساز او سامان ځخه ډېر اعلی او اولی دی، کله چې الله تعالی دنيوي روزي د دوی په فکر او تجويز سره نه ده ويشلې؛ نو د نبوّت او رسالت تقسيم به ولې د دوی په تجويز سره سم وکړي، وروسته له دې نه د مال او دولت او د مادي سامانونو د بې وقعتی او حقارت بيان فرمايي:

وَلَوْلَا أَن يَكُونَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَن يَكْفُرُ بِالرَّحْمَٰنِ لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِّن فِضَّةٍ وَمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُونَ ﴿۳۳﴾ وَلِبُيُوتِهِمْ أَبْوَابًا وَسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِئُونَ ﴿۳۴﴾ وَزُخْرُفًا

او که نه وی دغه (خطره) چې شي دا خلق ډله يوه (متّفق په کفر)؛ نو خامخا ګرځولي به مو وو هغه چا لره چې کافر کيږي په رحمان لپاره د کوټو د دوی چتونه له سپينو زرو، او زينه پايې (به مې هم له سپينو زرو ورجوړولې، ځو په هغو سره) پر دغو (کوټو) به ختلی دوی (لپاره د حاجتونو خپلو). او لپاره د کوټو د دوی (د سپينو زرو) دروازې به وې او تختونه (به وو د سپينو زرو) چې پر هغو به يې تکيې وهلې دوی. او (له) سرو زرو (نور د زينت شيان به مې هم ورلره ورکړي وو).

تفسير: يعنې د الله تعالی په نزد دغه دنيوي مال او دولت هيڅ قدر او اهميت نه لري، او نه د دنيوي مال اعطاء ځه د قُرب او د وجاهت عند الله دليل دی، دا خو داسې بې قدره او حقير شی چې که کوم خاص مصلحت مانع نه وي؛ نو الله تعالی د کفارو کوټې، چتونه، زينې، دروازې، درشايي، قلفونه، تختونه، چوکيګانې او نور اثاث البيت به يې ګرد له سرو او سپينو زرو ځخه جوړول، مګر په دغه صورت کې به خلقو د دغه وضعيت له ليدلو ځخه چې کفارو ته دغسې اسباب او سامان ور په برخه کيږي؛ عمومًا د کفر لاره اختياروله (الا ما شاء الله)، او دغه شی د الله تعالی له مصلحته مخالف دی، نو ځکه داسې ونه کړه شوه.

وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَالْآخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿۳۵﴾

او نه دي دا ټول (مذکور شيان) مګر متاع نفعه د دغه ژوندون لږ خسيس، او (متاع نفعه د) آخرت (جنّت) په نزد د رب ستا لپاره د متقيانو دی.

تفسير: يعنې دنيوي عيش او عشرت او خوند کې خو ګرد سره شريکان دي، مګر آخرت سره له خپلو ابدي نعماوو او آلاوو د متقينو لپاره مخصوص دی، چې متّقيان له الله جّل جلاله ځخه ويريږي، او ځان له معاصيو ساتي.

وَمَنْ يَعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهُ قَرِيْنٌ ﴿۳۶﴾

او هر څوک چې اعراض کوي (سترګې پټوي) له ذکر یادولو (د قرآن) د رحمان مسلط به کړو مونږ پر هغه باندې یو شیطان، پس هغه به له ده سره (دائمي) ملګری وي (چې یې لمسوي ګناهونو ته، او لغزوي یې له سمې لارې نه).

تفسیر: یعنې هر څوک چې له رښتیا نصیحت او د الله تعالی له ذکره او یاده اعراض کوي، او مخ ترې اړوي؛ پر ده باندې یو شیطان په خصوصي ډول سره مسلّطوه شي، چې تل ترتله یې اغواء کوي، او د ده په زړه کې راز راز وسوسې اچوي، دغه شیطان به تر دوزخ پورې هم د ده له ملګرتوبه لاس نه اخلي.

وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّوْنَهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَيَحْسَبُوْنَ أَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۳۷﴾

او بېشکه دغه (شیطانان) خامخا اړوي دغه خپل ملګري له لارې (د حق) او ګمان کوي (دغه سترګې پټوونکي کفّار له حقه) داسې چې بېشکه دوی د سمې لارې موندونکي دي.

تفسیر: یعنې شیاطین به تل د دوی مخه د نېکۍ له لارې څخه نیسي، مګر د دوی عقلونه هم تر دې اندازې پورې مسخ کیږي چې هغه غلطه لاره د دوی په نظر کې سمه لاره ښکاري او ښه یې ګڼي، د بدۍ او د نېکۍ تمییز هم په دوی کې نه پاتې کیږي.

حَتّٰى إِذَا جَآءَنَا قَالَ يٰلَيْتَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ الْقَرِيْنُ ﴿۳۸﴾

تر هغه پورې چې راشي مونږ ته؛ نو وبه وایي: (دغه اعراض کوونکي خپل ملګري ته) کاشکې چې وی په منځ ځما او په منځ ستا کې لرې والی له مشرقه تر مغربه، پس بد ملګری (یې ته ځما).

تفسیر: یعنې هر کله چې د الله تعالی په حضور کې ورسیږي؛ هلته به دغه خبره په ښه شان سره ورڅرګندیږي چې دغه ملګري یې څومره بد او خراب ملګري وو، هلته به له حسرته او قهره داسې وایي چې: کاشکې ځما او ستا په منځ کې د مشرق او مغرب فاصله وی !، او یوه شپېه به مې هم ستا په صحبت کې نه وی تېره کړې، ای کمبخته ! اوس خو لږ شانې له ما څخه لرې شه !.

نو پاک الله جلّ وأعلی شأنُه وأکرم وأعظم برهانُه داسې فرمایي:

وَلَنْ يَّنْفَعَكُمُ الْيَوْمَ إِذْ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُوْنَ ﴿۳۹﴾

او له سره به څه فائده ونه رسوي تاسې ته نن ورځ (له دې جهته) چې ظلم کړی دی تاسې (په شرک سره) دا چې بېشکه تاسې (سره له ملګرو خپلو) په عذاب کې سره شریکان یئ (لکه چې په کفر کې سره شریکان وئ).

تفسیر: د دنیا قاعده ده: په کوم مصیبت کې چې په عمومي ډول سره لوی او واړه ټول سره شریکان وي؛ نو هغه لږ شانې سپک او آسان ښکاري، مشهور متل دی چې: «په ګډه مرګ کې لویه چرچه وي» مګر په دوزخ کې د ټولو شیاطین الانس والجنّ او د تابعینو او متبوعینو په اشتراک او ګډون کې دوی ته هیڅ یوه فائده اوګټه نه وررسیږي، د عذاب شدّت به دومره زیات وي چې په داسې سطحي خبرو له سره دوی نشي متسلي کېدی، او دوی ته له هغه ځنې څه تخفیف او سپکتیا نه محسوسیږي.

أَفَأَنتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ أَوْ تَهْدِي الْعُمْيَ وَمَن كَانَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿۴۰﴾ فَإِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنْهُم مُّنتَقِمُونَ ﴿۴۱﴾ أَوْ نُرِيَنَّكَ الَّذِي وَعَدْنَاهُمْ فَإِنَّا عَلَيْهِم مُّقْتَدِرُونَ ﴿۴۲﴾ فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِي أُوحِيَ إِلَيْكَ إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿۴۳﴾

آيا پس ته به (ای محمده !) اورول وکړې کنړ ته؟ يا سمه لاره به وښيې ړندو ته؟ او هغه چا ته چې وي په ګمراهي ښکاره کې، پس که بيول وکړو مونږ خامخا په تا سره؛ پس بېشکه مونږ له دوی نه انتقام اخيستونکي يو (په آخرت کې). يا به وښيو تاته (په حيات ستا کې) هغه (عذاب) چې وعده يې کوو له دوی سره، پس بېشکه مونږ په (عذاب د) دوی قادر يو (په هر حال کې). پس منګولې خښې کړه (ښه عمل وکړه) په هغه (قرآن) چې وحي کړی شوی دی تاته (ای محمده !)، بېشکه ته پر لارې سمې روان يې (نو ژر به مطلب ته ورسېږې).

تفسير: يعنې ړندو ته د حق لاره نښوول، کنړ ته د غږ اورول، او هغو کسانو ته چې په صريحې غلطۍ او ګمراهۍ کې سرګردانه حيرانه ګرځي، سمه صافه لاره نښوول، او د کفر، شرک، شک او عصيان له تيارو څخه يې د باندې ايستل، او هدايت پر لوی سړک يې روانول؛ ستاسې په واک او اختيار کې نشته، که الله تعالی اراده وفرمايي؛ نو ستا په غږ کې تأثير پيدا کوي، په هر حال تاسې داسې غم او اندېښنه مه کوئ چې دغه ګرد خلق ولې حق نه مني؟ او ولې خپله آخره خاتمه خرابوي؟ د دوی معامله پاک الله ته وسپارئ؟ هم هغه به دوی ته د دوی د دغو اعمالو سزا ورکوي، که د دوی دغه په سزا رسول ستاسې له وفاته وروسته واقع شو؛ او يا هم ستاسو په ژوند کې مو تاسو ته ددوی عذاب دروښوول، په هر صورت دوی ځمونږ له واکه او اختياره وتلي نشې او نه چېرې تللی شي، او نه به مونږ دوی بې له سزا ورکولو خوشې پرېږدو، ستاسې کار همدا دی: کومه وحي چې راغلې ده او کوم حکم چې تاسې ته درکړی شوی دی؛ پر هغه په ډېر مضبوطي سره ټينګ ولاړ اوسئ !، او برابره خپله فريضه اداء کوئ !، ځکه که د دنيا نور خلق پر بلې لارې لاړ شي؛ نو ته د الله تعالی په فضل او کرم سره پر سمه لاره روان يې، چې له هغه ځنې يو قدم دېخوا يا هغې خوا ته د هيسته کېدلو ضرورت نه دی پاتې، او نه د کوم هواپرست په غوښتنه، هيله، ارزو او تمنّا ته کوم بل لوری ته کتلی او التفات کولی شې.

وَإِنَّهُ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ ۖ

او بېشکه دغه (قرآن) ذکر پند (شرف عزت) دی تاته (ای محمده !) او قوم (امّت) ستا ته.

تفسير: لوی قرآن ستاسې او ستاسې د قوم لپاره د خاص فضل او شرف سبب دی، نو که عقل او پوهه لرې؛ نو د دغه لوی نعمت قدر دې وکړې، او د دې په هدايتو دې عمل وکړې.

وَسَوْفَ تُسْأَلُونَ ﴿۴۴﴾

او ژر ده چې پوښتنه به وکړه شي له تاسې (په ورځ د قيامت کې).

تفسير: يعنې مخ کې به د دې خبرې پوښتنه کيږي چې تاسې د دغه عظيم نعمت څه قدر کړی وو؟ او د دغه لوی فضل او شرف شکريه مو په څه شان سره اداء کړې وه؟.

وَسْـَٔلْ مَنْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رُّسُلِنَآ اَجَعَلْنَا مِنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ اٰلِهَةً يُّعْبَدُوْنَ ﴿۴۵﴾

او پوښتنه وکړه (ای محمده !) له هغه چا چې لېږلي مو دي پخوا له تا له رسولانو ځمونږ (په شپه د معراج کې، يا له علماوو د دوی)، آيا مقرر کړي وو مونږ بې له رحمن نور معبودان چې عبادت به يې کاوه شو.

تفسير: يعنې ستاسې لاره خو هم هغه ده چې د پخوانيو انبياوو لاره وه، هيڅ يو نبي د شرک تعليم نه دی ورکړی، او نه الله تعالی په هيڅ يوه دين کې شرکيه اعمال جائز درولي دي، چې ماسوا الله څخه د بل چا عبادت هم وکړی شي، او دغه ارشاد چې پوښتنه وکړه يعنې هر کله چې له دوی سره ملاقات وکړئ ! لکه چې د معراج په شپه کې وشو، يا د دوی احوال له کتابونو څخه تحقيق وکړئ !، په هر حال د تحقيق او تفتيش ذرائع چې وي؛ هغه ګرد تر استعمال لاندې ونيسئ !، له هغو څخه به په صاف ډول سره ثابتيږي چې په هيڅ سماوي دين کې هيڅ کله د شرک اجازه نه ده ورکړی شوې.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَقَالَ اِنِّيْ رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۶﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِاٰيٰتِنَآ اِذَا هُمْ مِّنْهَا يَضْحَكُوْنَ ﴿۴۷﴾

او خامخا په تحقيق لېږلی وو مونږ موسی سره له (نهو) دلائلو ځمونږ فرعون ته او مشرانو د دغه (فرعون) ته، پس وويل (موسی): بېشکه زه چې يم رسول د رب د عالميانو يم. پس کله چې راغی (موسی) دوی ته سره له دلائلو ځمونږ؛ ناڅاپه دوی په دغو دلائلو به يې خندل.

تفسير: يعنې پر معجزاتو يې ټوکې مسخرې کولې.

وَمَا نُرِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ اِلَّا هِيَ اَكْبَرُ مِنْ اُخْتِهَا

او نه مو ښوده دوی ته (هيڅ دليل) له دلائلو (د عذاب) مګر چې هغه لوی وه له ملګري د دې (يعنې له هغه تېر عذابه).

تفسير: يعنې له يوه څخه بل د قدرت لوی دليل مو د موسی عليه السلام د تصديق لپاره وښوده.

وَاَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۴۸﴾

او نيولي وو مونږ دوی په عذاب سره لپاره د دې چې دوی راوګرځي (له کفره خپله).

تفسير: بالآخره مو هغه دلائل ورولېږل چې د عذاب يو شان رنګ د هغو په منځ کې مرکوز وو، لکه چې د (۹ جزء د «الأعراف» سورت په (۱۶) رکوع (۱۳۳) آيت) کې مذکور دي: ﴿فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوْفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ﴾ او له دې نه غرض دا وو څو دوی وويريږي، او له خپلو هغو حرکاتو څخه مخ وګرځوي، نو هغوی ببرته ونه ګرځېدل، کله چې عذاب يې ولید؛ نو داسې فرياد يې وکړ:

وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَ السَّاحِرُ

او وويل (قبطيانو موسی ته) ای ساحره !

تفسير: د دوی په محاوراتو کې عالم ته به يې «ساحر» ويل، ځکه چې لوی علم د دوی په نزد همدغه سحر وو، ښايي د دغه عجز، زاری، خوشامد او تملّق په وخت موسی عليه السلام يې په دغه ظاهري تعظيمي لقب سره بللی وي.

ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۖ إِنَّنَا لَمُهْتَدُونَ ﴿۴۹﴾

وبوله ځمونږ لپاره رب خپل په سبب د هغې وعدې (د الله) چې له تا څخه ده (چې له مونږ لرې کړي عذاب)، بېشکه چې مونږ خامخا لاره موندونکي يو (په ايمان راوړلو سره په تا باندې ای موسی !).

تفسير: يعنې د دعاء هغه طريقه چې تاته رب ښوولې ده، او هغه عهد چې مونږ له تاسې سره کړی دی، سم له هغه دعاء سره داسې وشو؛ نو ضرور مونږ به هم پر سمه لاره راځو او ستا خبرو ته به غوږ ږدو؛ نو سمه صافه لاره به بيامومو.

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِذَا هُمْ يَنْكُثُونَ ﴿۵۰﴾

پس کله چې لرې مو کړ له دوی نه عذاب (په دعاء د موسی سره) ناڅاپه ماته کړه دوی (هغه وعده خپله).

تفسير: يعنې څه مهال چې هغه تکليف مرتفع او د مصيبت ساعت له دوی نه پورته او مندفع شو؛ يو ځلې ټولو سره له خپلو هغو مواعيدو څخه مخ واړوه، او داسې يې ورښکاره کړل چې مونږ له سره تاسره څه عهد او پيمان نه وو کړی، او في الحال يې مات کړ.

وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِنْ تَحْتِي ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿۵۱﴾

او غږ وکړ فرعون (افتخارًا) په قوم خپل کې (د جارچيانو په وسيله) وويل (فرعون): ای قومه ځما ! آيا نشته ما لره ملک سلطنت د مصر، او دغه ويالې چې بهيږي (او اصلي منبع يې نيل دی) لاندې تر (مانی) ځما، آيا پس نه وينئ تاسې (دغه لويي، جاه او جلال ځما)؟.

تفسير: په دغو اطرافو او حوالیو کې د مصر حاکم ډېر لوی سړی ګڼل کېده، او نهرونه يې همده کينودلي وو، او د نيل اوبه يې په همدغو ويالو کې غورځولې وې، او خپل باغ ته يې هم را ايستلې وې، مطلب دا چې سره د دغو سامانونو او وسايلو د موجوديت آيا ځمونږ دغه حيثيت او وضعيت له دې خبرې سره وړ او متقاضي دی ، چې د موسی عليه السلام په شان د يوه معمولي حيثيت والا خبرو ته غوږ ونيسو، او غاړه ورته کيږدو؟.

أَمْ أَنَا خَيْرٌ مِنْ هَٰذَا الَّذِي هُوَ مَهِينٌ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ ﴿۵۲﴾

بلکه زه بهتر يم له دغه سړي (موسی) چې هغه سپک (او حقير دی)، او نه دی نژدې (دې ته چې) صاف بيان (د مطلب) وکړي.

تفسير: يعنې له موسی سره نه څه مال او دولت شته، او نه حکومت او نه عزّت او نه کوم ظاهري کمال، تر دې چې په خبرو او اترو کې يې ژبه هم په صاف ډول سره نه چليږي، او تته کيږي.

فَلَوْلَآ أُلْقِيَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِّن ذَهَبٍ أَوْ جَآءَ مَعَهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِينَ ﴿٥٣﴾

پس ولې نه غورځول کيږي په ده باندې وښي له سرو زرو يا ولې نه دي راغلې له ده سره پرښتې پيوسته (صف ترلې).

تفسير: وايي چې فرعون به پخپله د جواهرو وښي پخپلو لاسونو کې اچول، او پر هر وزير او امير او مشر به يې چې لطف او مهرباني کوله؛ د هغه په لاسو کې به يې هم سم د ده له حال سره مناسب وښي اچول، د ده په مخ کې د ده لاوو لښکر صف ترلې وو، مطلب يې دا کله چې مونږ چا ته عزّت ورکوو؛ نو دغسې وضعيت ورسره کوو، نو آيا کله چې دی د الله تعالى د رسالت مدّعي دی نو ولې د ده الله د ده په لاسو کې وښي نه دي اچولي؟ او له سره يې د ملائکو يو لښکر نه دی رالېږلی؟.

فَٱسْتَخَفَّ قَوْمَهُۥ فَأَطَاعُوهُ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴿٥٤﴾

پس سپک بې عقل وموند (فرعون) قوم خپل پس اطاعت يې وکړه د هغه (فرعون په مطلب د ده کې)، بېشکه چې دوی وو يو قوم فاسقان.

تفسير: يعنې په دغو چټيو او غلطو تېرايستونکيو خبرو سره يې له خپل قوم څخه ناپوهان جوړ کړي دي، او هغه ټول احمقان د ده خبرو ته غوږ ږدي، حقيقت دا دی چې د دغو خلقو طبائع د الله تعالى په نافرمانی له ابتداء څخه عادت او معتاد شوي وو، دغه يې اوس د هغه عصيان او طغيان لپاره يوه نوې حيله او پلمه وګرځوله.

فَلَمَّآ ءَاسَفُونَا

پس کله چې په غضب يې کړو دوی مونږه (په ډېر طغيان خپل سره).

تفسير: يعنې هم هغسې کارونه يې وکړل چې په هغو سره عادتًا پاک الله په قهر او غضب کيږي.

ٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَٰهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٥٥﴾ فَجَعَلْنَٰهُمْ سَلَفًا وَمَثَلًا لِّلْءَاخِرِينَ ﴿٥٦﴾

نو انتقام واخيست مونږ له دوی نه پس غرق ډوب مو کړل دوی ټول (په بحيره د قلزم کې). پس ومو ګرځول دوی پېشوايان (لپاره د عبرت اخيستلو) او مثل لپاره د وروستنيو (خلقو تر قيامت پورې).

تفسير: يعنې وروسته راتلونکيو نورو نسلونو ته د دوی قصه د يوې عبرتناکې پېښې په شان ذکر او بيانيږي.

وَلَمَّا ضُرِبَ ٱبْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ ﴿٥٧﴾ وَقَالُوٓا۟ ءَأَٰلِهَتُنَا خَيْرٌ أَمْ هُوَ ۚ

او کله چې يادشی ځوی د مريمې دمثال په طور؛ ناڅاپه قوم ستا پر هغه (مثال) شورماشور د خوشالتيا (او خندا) کوي. او وايي (دغه کفّار) آيا معبودان ځمونږ غوره دي او که هغه غوره دی؟ (هر کله چې عيسى په دوزخ کې شو، خو ځمونږ بُتان دې هم په دوزخ کې وي).

تفسير: يعنې کله به چې د عيسى المسيح عليه السلام ذکر کېده؛ نو د عربو مشرکانو به ډېر شورماشور نښلاوه، او راز راز غږونه به يې پورته کول، په ځينو روايتو کې راغلي دي، څخه مهال (وخت) چې رسول الله مبارک دغه آيت ولوست: ﴿إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ﴾ (۱۷ جزء د الأنبياء سورت (۷) رکوع (۹۸) ځمونږ دغه تفسير)؛

نو مشرکانو وویل چې: نصاری د مسیح علیه السلام عبادت کوي، او راوښیه چې ستاسې په خیال ځمونږ معبودان ښه دي؟ که مسیح علیه السلام؟ ظاهر دی چې تاسې مسیح ته ښه وایئ، کله چې مسیح (معاذ الله) د دې آیت په عموم کې داخل وي؛ نو خیر دی ځمونږ معبوان دې ورسره داخل وي، په ځینو روایاتو کې راغلي دي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو ځلې فرمایلې وو: «لیس أحد یُعبد من دون الله فیه خیر»؛ نو کفارو وویل چې: آیا په مسیح کې هم څه خیر او ښېګڼه (فائده) نشته؟ ظاهر دی چې د آیت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې الفاظو مطلب له هغو شیانو سره متعلق وو چې مشرکان د هغوی په عبادت کې لګیا وو، او په دغو معبودینو کې د دغې خبرې قوّت او قدرت هم نه وو چې د خپلو عابدینو جواب په «لا» او «نعم» سره ورکړی شي، یا دوی له دغه ناحقه عبادت څخه منع کړي، یا د خپلې بېزاری اعلان هغوی ته واوروي، مګر د دغو معترضینو منشأ تش جګړه کول او اعتراض ایستل، او د مناقشې او مجادلې خبرې پیدا کول، او د حق لتاړول وو، نو ځکه قصداً به یې داسې خبرې جوړولې، چې د متکلم له مراده مخالفې وي.

مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًا ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ ﴿٥٨﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَاهُ مَثَلًا لِبَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿٥٩﴾

نه بیانوي دوی دغه مثال تا لره مګر محض لپاره د مجادلې خصومت جګړې، بلکه دوی یو قوم جګړه کوونکی دی (په هر کار کې). نه دی دغه (عیسی) مګر یو بنده دی چې نعمت کړی وو مونږ پرې، او ګرځولی مو وو دی یو مثل لپاره د بني اسرائیلو.

تفسیر: یعنې یواځې په همدغه مسئله کې د دوی دغه جګړې نه دي محدودې، بلکه د دوی په طبیعت کې جګړه او جنجال واقع دی، سمې او صافې خبرې هیڅ کله د دوی په مغزو کې ځای نه نیسي، همداسې مهملې او چټې مباحثې او لرې له مقصده جګړې راوباسي، چېرې هغه شیاطین چې پر خلقو خپل عبادت اجرا کوي، او پر هغو دوی خوښیږي، یا هغه د تیږې (ګټې) بېځانه بُتان چې پر دغه بیخي قوّت او قدرت نه لري چې خلق له کفره او شرکه منع کړي، او چېرې د لوی الله هغه مقبول بنده چې پرې الله تعالی خپل خاص فضل او کرم فرمایلی دی، او د بني اسرائیلو د هدایت لپاره یې درولی وو، چې دی پخپله پر خپل عبودیت مقر وو، او هم خپل امت یې د وحدانیت په طرف باله، او هغوی ته به یې داسې ویل: ﴿إِنَّ اللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ﴾ نو آیا دغه مقبول بنده ته (العیاذ بالله) «حصب جهنّم» یا «لیس فیه خیر» ویلی کېدی شي؟ یا د تیږو بُتان له هغه سره برابري او سیالي کولی شي؟.

وَلَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَا مِنْكُمْ مَلَائِكَةً فِي الْأَرْضِ يَخْلُفُونَ ﴿٦٠﴾

او که اراده فرمایلي وی مونږ؛ نو خامخا ګرځولې به مو وی په ځای د تاسې پرښتې په ځمکه کې چې خلیفګانې شوې به وی.

تفسیر: که الله تعالی اراده کړي وی؛ نو ستاسو په عوض به یې پرښتې په ځمکه کې ګرځولې وی، چې یو په بل پسې راتلې، لکه چې تاسې یو بل پسې راځئ، الله تعالی ته پوره قدرت حاصل دی.

وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِلسَّاعَةِ

او بېشکه دغه (عیسی) خامخا علامه ښه ده لپاره د قیامت (په اعتبار د نزول سره).

تفسیر: یعنې د عیسی علیه السلام اول ځلي راتلل خو خاص د بني اسرائیلو لپاره یوه د قدرت ښه وه، چې بې له پلاره پیدا شو، او عجیبې او غریبې معجزې یې ورښکاره کړې، او د ده دویم ځلي راتګ به د قیامت له ښو څخه وي، د ده له نزوله به خلق معلوم کړي چې قیامت بیخي نژدې رارسېدلی دی.

فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ ۖ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطَانُ ۖ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٦٢﴾

پس شک مه کوئ تاسې په (راتلو د) قیامت کې، او متابعت وکړئ ځما (په توحید کې)، دغه لاره ده سمه برابره (چې نه پرې ګمراه کیږي هیڅوک). او نه اړوي تاسې شیطان (له دغې سمې لارې)، بېشکه چې (دغه شیطان) تاسې ته دښمن دی ښکاره.

تفسیر: یعنې د قیامت په راتګ کې شک مه کوئ ! او د توحید او د ایمان پر هغې سمې لارې چې زه یې تاسې ته درښیم؛ سم برابر لاړ شئ !، نه چې ستاسې ازلي دښمن تاسې له هغې لارې ځخه منع کړي، او مخه مو ونیسي.

وَلَمَّا جَاءَ عِيسَىٰ بِالْبَيِّنَاتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُم بِالْحِكْمَةِ وَلِأُبَيِّنَ لَكُم بَعْضَ الَّذِي تَخْتَلِفُونَ فِيهِ ۖ

او کله چې راغی عیسی په دلائلو ښکاره وو سره وویل (عیسی) چې: په تحقیق راغلی یم زه تاسې ته په حکمت (نبوّت، شریعت، ښه درایت پخې خبرې)، او لپاره د دې چې بیان کړم تاسې ته ځینې له هغو احکامو چې وئ تاسې چې اختلاف به مو کاوه په هغو کې (له امورو د دین نه).

تفسیر: یعنې دیني خبرې یا ځینې هغه شیان چې د موسوي شریعت له طرفه حرام درولی شوي وو؛ د هغه حلّت بیان تاسو ته کوم، لکه څنګه چې د آل عمران سورت په (۵) رکوع (۵۰) آیت کې راغلي دي: ﴿وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ الَّذِي حُرِّمَ عَلَيْكُمْ﴾.

فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿٦٣﴾ إِنَّ اللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦٤﴾

پس وویرېږئ له (عذابه د) الله او اطاعت وکړئ ځما (په شرعي امورو کې). بېشکه الله هم هغه دی رب ځما او رب ستاسو، پس عبادت کوئ یواځې د دغه (الله، او حکم یې منئ)، دغه لاره ده سمه برابره.

تفسیر: دغه تعلیم وو د عیسی علیه السلام، وګورئ چې په څومره صفایی او دُرستی سره یې د واحد الله تعالی د رُبوبیت او معبودیت بیان فرمایلی دی، او همدغه توحید، اتّقاء او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت یې صراط المستقیم درولی دی.

فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِن بَيْنِهِمْ ۖ

پس مختلف شول سره دغه قومونه (د نصاری) په منځ خپل کې.

تفسیر: یعنې اختلاف واقع شو، یهودان تري منکران شول، او نصرانیان پرې قائلان شول، بیا وروسته له دې نه نصرانیان هم سره څو ډلې شول، ځینې مسیح علیه السلام ته د الله تعالی ځوی وایي، ځینې یې له دري معبودانو یو معبود ګڼي، ځینې یو څه وایي او ځینې بل څه وایي، د مسیح علیه السلام پر اصلي تعلیم خو یو تن هم نه دی پاتې.

فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٦٥﴾ هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا السَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٦٦﴾

پس افسوس هلاک خرابي ده لپاره د هغو کسانو چې ظلم يې کړی دی (په باب د عیسی کې) له عذابه د ورځې درد ورکوونکي. آیا منتظر دي (دغه احزاب یا کفار د مکې، یعنې نه دي) مګر قیامت ته چې رابه شي دوی ته یو ناڅاپه، او دوی به نه پوهیږي (په وخت د راتلو يې قبل الظهور).

تفسیر: یعنې له داسې ښکاره وو او واضحو بیاناتو او هداياتو سره هم که دغه خلق د حق او صدق منونکي نه دي؛ نو بالآخر دوی د څه شي په انتظار کې دي؟ د دوی د دغه وضعیت او احوال له لیدلو څخه داسې ویل کېدی شي چې که قیامت یو ځلې ناڅاپه د دوی پر سرونو ودریږي؛ نو هلته به يې ومني، حال دا چې د هغه وخت منل له سره په درد نه خوري، او مفید نه واقع کیږي.

اَلْاَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۢ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ ﴿۶۷﴾

یاران (دوستان د کفر او معصیت) په دنیا کې په دغه ورځ (د قیامت کې) ځینې د دوی له ځینو نورو سره به دښمنان وي مګر (پاتې به وي دوستي) د متقیانو.

تفسیر: په دغه ورځ کې به دوست له دوست څخه لرې تښتي، نه چې زه هم د ده په شامت ونیولی شم، د دنیا دغه ګردې دوستی او محبتونه او خپلوی به سره منقطع کیږي، انسان به افسوس او ارمان کوي چې ولې مې له هغه شریر سړي سره دوستي کړې وه، چې د هغه په غولولو او لمسولو سره زه نن په دغه مصیبت کې اخته شوم، په دغه وخت کې به ډېر خوږ او مین محبوب هم د خپلې خوږې او مینې محبوبې له لیدلو ځنې ویریږي به، او یو د بل له لیدلو څخه به بېزاره وي، هو ! د هغو کسانو محبت او دوستي به په کار ورځي، چې خاص د الله لپاره وي، او نداء به وکړه شي پر دغو مؤمنانو باندې د الله أعظم شأنُه وأكرم برهانُه له جانبه داسې چې:

يٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿۶۸﴾

ای بندګانو ځما ! نشته هیڅ وېره پر تاسې نن ورځ او نه به غمجن کېږئ.

تفسیر: یعنې نه د وړاندې ویره او نه به د وروستي غم اندېښنه ورسره وي، او د دوی صفت دغه دی.

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ﴿۶۹﴾

هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی په آیتونو ځمونږ، او وو دوی مسلمانان (په دنیا کې).

تفسیر: یعنې په زړه سره يې یقین او پخپلو نورو جوارحو او اعضاوو سره يې د ده احکام په ځای راوړل، او د اطاعت او انابت غاړه يې ورته کېښوده، له دې ځایه د ایمان او اسلام فرق ظاهریږي، لکه چې د جبریل علیه السلام په حدیث کې د دې مفصّل بیان شوی دی، بیا به وویلی شي دغو مؤمنانو ته له جانبه د الله أكرم شأنُه او أعظم برهانُه داسې چې:

اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ اَنْتُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ تُحْبَرُوْنَ ﴿۷۰﴾ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِّنْ ذَهَبٍ وَّاَكْوَابٍ ۚ وَفِيْهَا مَا تَشْتَهِيْهِ الْاَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْاَعْيُنُ ۚ

ننوځئ (ای ځما بندګانو) جنت ته تاسې او ښځې ستاسې چې خوشاله به کړل شئ. ګرځولی کیږي به (د غلمانو له خوا) پر دغو جنتیانو کاسې ګلاسونه له سرو زرو څخه او (طلایي) صراحۍ ګانې، او (وي به دوی ته) په دغه (جنت) کې هغه څیزونه چې خواهش کوي د هغو نفسونه (د دوی) او چې خوند اخلي سترګې (د دوی ترې).

تفسير: له ټولو څخه اعلى او اولى څيز چې تري ستركې په ليدلو سره رښې او يخې او زړونه آرامي او هوسايي (راحت) مومي؛ د الله تعالى لقاء ده، رزقنا الله تعالى بفضله ومنّه.

وَأَنتُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٧٣﴾ وَتِلْكَ ٱلْجَنَّةُ ٱلَّتِىٓ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٧٢﴾

او تاسې په دغه جنت کې همېشه اوسېدونکي يئ. او دغه جنت دى هغه چې په ميراث درکړى شوى دى هغه تاسو ته په سبب د هغو (نېکو عملونو) چې وئ تاسې چې کول به مو په دنيا کې.

تفسير: يعنې ستاسې د پلار آدم عليه السلام ميراث تاسې ته بيا درورسېده، او دغه د الله تعالى فضل او مرحمت او ستاسې د اعمالو ثمره ده.

لَكُمْ فِيهَا فَٰكِهَةٌ كَثِيرَةٌ مِّنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٧٣﴾ إِنَّ ٱلْمُجْرِمِينَ فِى عَذَابِ جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴿٧٥﴾

شته تاسې په دغه (جنّت) کې (ښې غوره منتخبې) مېوې ډېرې چې له هغو څخه به يې خورئ تاسې. بېشکه چې مجرمان (کافران) په عذاب د دوزخ کې به همېشه پاتې کيدونکي وي. نه به سپکاوه شي له دوى څنې (عذاب) او دوى به په دغه عذاب کې ساکت نااميده وي (له نجاته او نشاطه).

تفسير: يعنې عذاب به نه کوم وخت ملتوي کيږي، او نه سپکاوه شي، دوزخيان به نااميده کيږي چې اوس په هيڅ صورت له دې ځايه نشو وتلى، او نه د وتلو څه سبيل او لاره شته.

وَمَا ظَلَمْنَٰهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا۟ هُمُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧٦﴾

او نه دى کړى مونږ ظلم پر دوى وليکن دوى وو هم دوى ظالمان (پر ځانونو خپلو په کفر سره).

تفسير: يعنې مونږ په دنيا کې د نېکئ او بدئ هره خوا او هر پلو دوى ته ښوولى او پوهولى وو، او انبياء الله مې ليږلي وو، او پر دوى مې د حجّت اتمام کړى وو، او هيڅ يومعقول عذر مې دوى ته باقي نه وو پرېښى، خو سره له هغه دوى ونه منل، او له خپلو تېريو او زياتو څخه يې لاس وانه خيست، که داسې ظالمينو او متجاوزينو ته سزا ورکړه شي؛ نو څوک دغې سزا ته ظلم ويلى شي؟.

وَنَادَوْا۟ يَٰمَٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ۖ

او غږ به وکړي (جهنّميان) چې اى مالکه (خازنه د دوزخ) حکم دې وکړي پر مونږ رب ستا (د مرګ).

تفسير: «مالک» د هغې پرښتې نوم دى چې پر دوزخ موکله ده، او د اور داروغه ورته ويلى شي، دوزخيان به ده ته غږ کوي او ناري به وهي چې مونږ نه مرو او نه خلاصى مومو، ته دې خپل رب ته ووايه چې: يو ځلې دې مونږ ته عذاب راکړي، او کار مو دې له بېخه تمام کړي، ګواکې له نجاته بې هيلې او مايوس کيږي، او د مرګ په ارمان کې لويږي.

قَالَ إِنَّكُمْ مَّاكِثُونَ ﴿۷۷﴾

وبه وايي (مالک خازن پس له زرو کلو په ځواب کې د دوی) چې بېشکه تاسې (ژوندي) پاتې کيدونکي يئ (په دوزخ کې).

تفسير: يعنې له چيغو او شورماشور څخه هيڅ فائده نه دررسيږي، تاسې په همدغه خپل حال تل ترتله پاتې کيدونکي يئ، وايي چې دوزخيان به تر يو زر کاله چغې وهي، نارې سورې به کوي، بالآخر دوی ته به داسې يو جواب اوراوه شي، او د الله أجل وأعلى شأنُه وأعظم برهانُه له جانبه داسې ويل کيږي:

لَقَدْ جِئْنَاكُم بِالْحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كَارِهُونَ ﴿۷۸﴾

خامخا په تحقيق راغلي وو مونږ تاسې ته (په وسيله د انبياوو) په حق سره، وليکن زياتره ستاسې حق لره بد ګڼونکي يئ (چې حق به مو نه قبلاوه).

تفسير: يعنې هغه سزا تاسې ته پر دغه جرم درکړی شوې ده، چې تاسې على الأكثر د صداقت او حقّانيت په خلاف اقدامات کول، او زيات له تاسې د ړوندو په شان په هغه پسې لويدلي وئ.

أَمْ أَبْرَمُوا أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ ﴿۷۹﴾

بلکه محکم کړي دي (کُفّارو په خلاف د انبياوو) يو کار، پس بېشکه مونږ هم محکم کوونکي يو (د تدبير خپل).

تفسير: د عربو کفّار ځمونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خلاف راز راز پلمې او حيلې جوړولې، او قسم په قسم پټ تدبيرونه به يې سره ترړل، مګر د الله تعالى خفيه تدبير د دوی پر دغو ګردو پلمو باندې اوبه بهولې.

أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُم ۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ ﴿۸۰﴾

آيا ګمان کوونکي دي (کفّار) چې بېشکه مونږ نه اورو پټې خبرې د دوی او پټې مشورې د دوی؟ (نه ده داسې) بلکه اورو يې، او رسولان ځمونږ (چې حفظه ملکې دي) له دوی سره دي چې ليکي (ټول اعمال د دوی).

تفسير: يعنې دوی د زړونو پر اسرارو، نيّاتو، او پټو خبرو مونږ پوهيږو، او د دوی پټې جرګې او مشورې مونږ اورو، او سم د حکومت د انتظامي ضابطې سره ځمونږ پرښتې (کرام کاتبين) د دوی ګرد اعمال ليکي، دغه ګرد دفاتر به د قيامت په ورځ وروړاندې کيږي.

قُلْ إِن كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ ۖ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ ﴿۸۱﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) که وي (بالفرض والتقدير لکه چې تاسې وايئ) رحمان ته ولد (ځوی لور)؛ پس زه به (دغه ولد لره) ړومبنی له عبادت کوونکيو وم (خو الله له ګردو (ټولو) عيوبو څخه پاک دی، او ولد نه لري).

تفسير: يعنې له دې نه لوی ظلم به بل څه وي چې الله تعالى ته ځامن او لونې تجويزيږي، تاسې ووايئ: که به فرض محال سره الله تعالى اولاد درلودی؛ نو ړومبنی سړی به زه وم چې د ده د اولاد عبادت به مې کاوه، ځکه چې په دنيا

کې زه له ګردو ځنې زیات د الله تعالی عبادت کوونکی یم، او هر چاته چې هومره زیاته علاقه له الله تعالی سره وي؛ په هم هغه تناسب ښایي د ده له اولاد سره یې هم وي، بیا څه مهال (وخت) چې زه سره له اوّل العابدینْـتُوبه د هیڅ یو موجود په ولدیت الله ته قایل نه یم؛ نو تاسې څرنګه د پاک الله داسې منونکي یئ چې د ده تر فرضي اولاده حقوق هم منئ؟.

سُبْحٰنَ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۸۲﴾

پاکي ده رب د اسمانونو ته، او (رب د) ځمکې ته، رب د عرش ته له هغه څه چې بیانوي (دوی ورته چې نسبت د ولد او شریک او نور عیوب دي).

تفسیر: یعنې د هغو خبرو نسبت چې دغه خلک الله تعالی ته کوي، مثلاً اولاد او نور، له هغو ګردو ځنې د الله تعالی ذات پورته او منزّه دی، د ده په ذات کې د دې خبرې له سره امکان نشته چې معاذ الله د چا پلار یا ځوی شي.

فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿۸۳﴾

بس پرېږده دوی چې غوټې وهي (په باطلو خبرو)، او لوبې کوي تر هغه پورې چې ملاقات وکړي له ورځې د دوی سره هغه (هغه ورځ) چې وعده کړی شوې ده (له دوی سره په دغه ورځ د قیامت کې د عذاب).

تفسیر: یعنې دوی د غفلت او حماقت په نشو کې هر څه چټې او چپولې خبرې چې کوي؛ ودې کړي، او تاسې له سره ورته توجّه او التفات مه کوئ !، دغه خلق د څو ورځو له مخې په دنیوي عیش او عشرت او چرچو کې خپلې ورځې تېروي، بالآخر هغه موعوده ورځ راتلونکې ده، چې په هغې کې دوی ته د دوی دغه بې ادبي او ګستاخي او نور شرارتونه یو په یو وړاندې کیږي، او د هغو په مقابل کې به دوی د هر یوه د خوند او مزې څکوونکي وي.

وَهُوَ الَّذِيْ فِي السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَّفِي الْاَرْضِ اِلٰهٌ ۭ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْعَلِيْمُ ﴿۸۴﴾

او الله هغه (لوی ذات) دی چې په اسمانونو کې معبود دی، او په ځمکه کې معبود دی، او همدی دی ښه حکمت والا ښه عالم.

تفسیر: یعنې نه په اسمان کې پرښتې، لمر، قمر، او ستوري معبود ګرځېدی شي، او نه په ځمکه کې اصنام، اوثان، او بُتان او نور، د ګردو علویّاتو او سفلیّاتو او ما فیهما حقیقي معبود هم هغه واحد احد الله تعالی دی، چې له فرشه تر عرشه پورې د ګردو اشیاوو مالک او خالق دی، او د ټولو اکوانو او امکنه وو، ازمنه وو پخپل علم او اختیار سره مالک او متصرّف دی.

وَتَبٰرَكَ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ وَعِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ

او برکت ناک دی هغه (لوی ذات) چې خاص ده ته دی ملک سلطنت د اسمانونو او د ځمکې او د هر هغه څه چې په منځ د دغو دواړو کې دي، او (خاص) له همده سره دی علم د قیامت.

تفسیر: یعنې قیامت کله راځي؟ د دې خبرې علم یواځې له هغه مالک الملکوت او صاحب الکبریاء والجبروت الله أجل وأعلی شأنه وأعظم وأکرم برهانُه سره دی.

وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٥﴾

او خاص همدغه (الله) ته به بېرته بيولى شئ (تول قيامت ته لپاره د جزاء).

تفسير: يعنې كله چې هلته ورسېږئ، د ځردو حسناتو او سيئاتو حساب او كتاب به مو كيږي، او د هغو ثواب او عذاب به دررسيږي.

وَلَا يَمْلِكُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَن شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٨٦﴾

او اختيار نه لري هغه معبودان چې دوى يې عبادت كوي بې له دغه (الله) د شفاعت (لكه چې منكران ځكمان كوي) مګر هغه څوك چې شاهدي يې ويلي وي (په ژبه) په حقه سره، حال دا چې دوى پوهيږي (او علم يې وي پر هغو باندې په زړه سره).

تفسير: يعنې دومره سپارښت كولى شي، هر هغه چا چې له خپل علم سره موافق د اسلام حقه كلمه ووائي او د هغې ځواهي وركړي او د اسلام دحقې كلمې د ځواهۍ پرته هيڅ څوك د هيڅا سفارش نشي كولى، او دغومره سپارښت به هم هغه صالحين وكړي چې د دوى په رښتين توب خبردار وي، او په دې باندې ښه پوهيږي چې دغه په ژبه او په زړه سره مسلمان دى، نورو ته به داسې اجازه نه وي.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٨٧﴾

او قسم دى كه وپوښتې ته دوى چې چا پيدا كړي دي دغه (عابدان او معبودان)؛ نو خامخا وبه وايي: هرومرو (خامخا) دوى چې الله (پيدا كړي دي)، پس كوم طرف ته ځرځول كيږي دغه (مشركان له عبادت د الله).

تفسير: يعنې كله چې پيدا كوونكى همدغه يو الله دى؛ نو د بندګۍ او د عبادت مستحق ولې نور شول؟ عبادت د انتهايي تذلّل نوم دى، او دغه تذلّل د هغه ذات لپاره ښايي چې وكړي شي چې د انتهايي عظمت او جبروت څښتن دى، ډېر د تعجّب ځاى دى چې دوى مقدّمات تسليموي، ليكن د هغو له نتايجو څخه منكران كيږي.

وَقِيلِهِ يَا رَبِّ إِنَّ هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾

او (الله تعالى سره علم پر دغې) وينا د دغه (رسول) دى چې اى ربه ځما ! بېشكه دغه (قريشي منكران) يو قوم دى چې ايمان نه راوړي (په مؤمن به شيانو باندې).

تفسير: يعنې د نبي دغه وينا هم الله تعالى ته معلومه ده.

فَاصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلَامٌ ۚ

پس مخ وځرځوه له دوى (او طمع پرېكړه له ايمانه د دوى)، او ووايه (اى محمده ! دوى ته غواړم له شره ستاسو) سلامتي.

تفسير: يعنې غم مه خوره ! او زيات په دوى پسې مه لوبېره ! محض د دعوت او تبليغ فريضه دې اداء كوه !، نو بيا له دوى ځنې خپل مخ وځرځوه !، او ووايه: ښه ده كه تاسې ځما خبرو ته غوږ نه ږدئ؛ نو ځما سلام دې وي تاسې ته:

(وكان هذا قبل الأمر بالقتال)، (چې دا حكم د جهاد كولو د حكم نه مخكى وو).

فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾

پس ژر ده چې پوه به شي دوی (په عاقبت د کُفر خپل).

تفسير: يعنې بالآخره دوی ته به دغه خبره ښکاريږي چې دوی په څرنګه لويې غلطۍ کې لويدلي وو؟ لکه چې پر خپلو دغو تېروتو باندې ځينې کسان لږ څه په همدغه جهان کې پوه شوي هم دي، خو د هغه په پوره تکميل په آخرت کې کېدونکي دي.

تمّت سورة «الزخرف» بعون الله وتوفيقه، فلله الحمد والمنّة.

سُورَةُ الدُّخَانِ

«د (الدّخان) سورت مکي دی، (۵۹) آيت درې رکوع لري، په تلاوت کې (۴۴) او په نزول کې (۶۴) سورت دی، وروسته د «الزخرف» له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

حٰمٓ ﴿۱﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِينِ ﴿۲﴾ إِنَّآ أَنزَلْنٰهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ

قسم دی پر دغه کتاب ښکاره کوونکي (د ديني احکامو). چې ښېشکه مونږ نازل کړی مو دی هغه په شپه برکتناکه کې.

تفسير: د «برکت شپه» د قدر شپه ده، لکه څرنګه چې الله تعالی د «القدر» په سورت کې فرمايلي دي: ﴿إِنَّآ أَنزَلْنٰهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾ چې د رمضان المبارک په مياشت کې واقع ده، له قوله تعالی: ﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْءَانُ﴾ (د البقره سورت (۲۳) رکوع (۱۸۵) آيت)، په دغه شپه کې عظيم الشأن قرآن له لوح محفوظ څخه سماء الدنيا ته نازل کړی شوی دی، او بيا له هغه ځای متدرّجًا په درويشتو کلونو کې پر رسول الله صلی الله عليه وسلم نازل شوی دی، هم په همدغه شپه کې پر رسول الله صلی الله عليه وسلم مبارک د پاک قرآن ابتدايي نزول شروع شوی دی.

إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ﴿۳﴾

ښېشکه مونږ يو ويروونکي (په رالېږلو د قرآن).

تفسير: يعنې اورول همېشه ځمونږ کار او دستور وو، چې له هغه سره موافق دغه پاک قرآن هم نازل شوی دی.

فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ﴿۴﴾ أَمْرًا مِّنْ عِندِنَآ

په دغه (شپه) کې بيانوه شي ښېلاوه شي هر کار حکمتناک (داسې ټينګ چې نه بدليږي). حکم له نزده ځمونږ.

تفسير: يعنې د ټول کال په متعلّق د قضاء او قدر ګرد د حکمت او د مصلحت ډکې قاطعې او نه بدلېدونکې فيصلې په دغې عظيم الشأنې شپې کې له لوح محفوظ څخه نقل کيږي، او هغو پرښتو ته سپارلی کيږي چې د تکويناتو په شُعبو کې کار کوي.

إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ﴿۵﴾

ښېشکه مونږ يو لېږونکي (د رسولانو).

تفسير: يعنې (مونږ ليږونکي يو د) پرښتې پر هر هغه کار چې له دوی سره مناسب وي، لکه چې جبرئيل عليه السلام يې سره له پاک قرآن محمد صلی الله عليه وآله وصحبه وسلّم ته ولېږه.

رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٦﴾

لپاره د رحمت (او مهربانۍ پر خلقو) له رب ستا، بېشکه الله همدی دی ښه اورېدونکی د (ټولو) اقوالو، ښه عالم (په ټولو احوالو).

تفسیر: یعنې الله تعالی د ټول عالم له ګردو حالاتو څخه باخبر دی، د دوی غږ او دعاء اوري، ځکه په عین ضرورت کې یې خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم ته قرآن ورکړ، او د عالم لپاره یې د لوی رحمت په شان ولېږه.

رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴿٧﴾

(رحمت دی ټولو ته له طرفه د) رب د اسمانونو او (رب د) ځمکې او (رب د) هغو شیانو چې په منځ د دوی کې دي که چېرې یې تاسې یقین کوونکي (نو یقین وکړئ چې محمد د الله رسول دی).

تفسیر: یعنې که په تاسې کې پر کوم شي د یقین لرلو صلاحیت وي؛ نو له ګردو شیانو څخه ړومبی شی د یقین کولو قابل د الله تعالی عمومي ربوبیت دی، چې د هغه آثار په هره هره ذره کې له روښانې ورځې څخه زیات ښکاره او څرګند دي، او د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم رسالت دی.

لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ ۖ رَبُّكُمْ وَرَبُّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ ﴿٨﴾

نشته لایق د عبادت بل هیڅوک مګر همدی دی، چې ژوندي کوي او مړه کوي (دغه الله) رب ستاسې دی، او رب د پلرونو ړومبنیو ستاسې دی.

تفسیر: یعنې چې د هغه الله په قبضه کې ژوندي کول او مړه کول او د وجود او عدم واک او اختیار د هغه په لاس کې وي، او ګرد اولین او آخرین یې تر پالنې او تربیت لاندې دي؛ آیا ماسوا له هغه د بل چا عبادت او بندګي جایزه ده؟ دغه یو داسې صاف او ښکاره حقیقت دی چې په هغه کې د شک او شبهې هیڅ ځای او ګنجایش نشته.

بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ يَلْعَبُونَ ﴿٩﴾

(یقین نه کوي) بلکه دوی په شک کې دي (له بعث نه) چې لوبې مسخرې کوونکي دي (په مؤمن به شیانو).

تفسیر: یعنې د دغو واضحو نښو او دلائلو اقتضاء خو داسې وه چې دغو خلقو به هغه منل، مګر سره له هغه دوی یې نه مني، بلکه دوی د توحید او د نورو حقه وو عقایدو له طرفه په شکو کو او شبهو کې لویدلي دي.

فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ ﴿١٠﴾ يَغْشَى النَّاسَ ۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١١﴾

پس منتظر اوسه (ای محمده ! دوی ته) په هغه ورځ چې راشي دا اسمان په لوګي ښکاره سره. چې پټ به کړي ټول مخلوق. (وبه وایي دوی) دغه عذاب ډېر دردناک دی.

تفسیر: له «لوګي» څخه دلته څه مراد دي؟ په دغه مورد کې د اسلافو دوه قوله دي: ابن عباس رضي الله تعالی عنهما او نور وایي چې: قیامت ته نژدې به یو لوګی پورته کیږي، چې ګرد خلق به پټوي، نېکو سړیو ته به د ده ډېر لږ خفیف څه اثر د زکام په شان ورسیږي، او د کفّارو او منافقینو په ستونیو او دماغو کې ننوځي او بې هوشه کوي یې، دلته هم هغه لوګی مراد دی، ابن مسعود رضي الله عنه په ډېر قوّت سره ادعاء کوي، چې له دغه آیت څخه مراد هغه لوګی نه

دی چې د قیامت له علائمو څخه دی، بلکه رسول الله مبارک کله چې د قُریشو له تمرّد او طغیان څخه په تنګ شو؛ نو دعا یې وفرمایله چې الله جل جلاله پر دوی تر اوو کلونو پورې قحط مسلّط کړ، هم هغسې چې د یوسف علیه السلام په زمانه کې پر مصریانو مسلّط شوی وو، لکه چې قحط پر دوی مسلّط شو چې مکّیانو به په هغه کې له مردارو او له پوستکو او له هډوکو څخه خوړل، غالبا په همدغه دوران کې د «یمامه» رئیس ثمامه بن آثال رضي الله عنه په اسلام مشرّف شو، او د مأکولاتو د هغو ګودامونو لېږل یې منع کړل، چې له هغه ځایه مکې معظمې ته تلل، الغرض مکّیان د لوږې له لاسه مړه کېدل، او دغه مسلّمه او ښکاره خبره ده چې د مسلسلې وچکالی او قحط په زمانه کې به د «جو» یعنې د ځمکې او اسمان په منځ کې لوګي په شان دوړې او غُبار په نظر راځي، په دغه تقریر په ﴿يَغْشَى النَّاسَ﴾ کې به له خلقو څخه مراد مکیان وي، ګواکې دغه یوه وړاندوینه وه چې پوره شوه، کما یدل علیه قوله تعالی: ﴿فَارْتَقِبْ﴾.

رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ ﴿۱۲﴾

ای ربه ځمونږ! لرې کړه له مونږ دغه عذاب بېشکه مونږ ایمان راوړونکي یو.

تفسیر: یعنې کله چې په هغه عذاب کې مبتلا کېږي، نو داسې به وایي چې: اوس له دغه آفت څخه نجات راکړه، وروسته له دې نه مو توبه ده !، اوس مونږ ته پوره یقین حاصل شو، بیا به طغیان او شرارت نه کوو، او پاخه مسلمانان کېږو، وروسته له دې نه د دغې خبرې الله تعالی أعظم برهانُه وأکرم شأنُه داسې جواب فرمایي:

أَنَّىٰ لَهُمُ الذِّكْرَىٰ وَقَدْ جَاءَهُمْ رَسُولٌ مُّبِينٌ ﴿۱۳﴾ ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَقَالُوا مُعَلَّمٌ مَّجْنُونٌ ﴿۱۴﴾

چېرې به نفع ورسوي دوی ته پند اخیستل (پس د عذاب له نزوله) حال دا چې په تحقیق راغلی وو دوی ته رسول ښکاره، بیانوونکی. بیا همداسې وګرځېدل دوی له هغه (اجابت د رسُول نه)، او وویل (کفّارو): ده ته ښوونه کړی شوې ده (د قرآن له بل چا نه) لېونی دی.

تفسیر: یعنې اوس له پوهېدلو او له نصیحت څخه د فائدې اخیستلو موقع چېرې پاتې ده، په هغه وخت کې مو دغه پندونه ونه منل، چې ځمونږ رسول سره له ښکاره ښو او واضحو هداياتو درغلی وو، هلته به مو داسې ویل چې دغه لېونی دی، کله به مو ویل چې: دی دغه خبرې له بل چا څخه زده کوي، او بیا د هغه له مخې دغه کتاب جوړوي، د ابن عبّاس رضي الله تعالی عنهما د تفسیر سره سم د دې آیت مطلب داسې شو، او د ابن مسعود رضي الله تعالی عنه له تفسیر سره موافق معنی به یې داسې وي چې: مکّیان له قحط او نورو مصائبو څخه په تنګ شول، او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې غوښتنه وکړه چې دغه آفت له مونږ څخه لرې کړئ، په ځینو روایاتو کې راغلي دي چې ابو سفیان او نورو مشرکانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کې عرض او فریاد وکړ، چې تاسې خو فرمایئ چې زه «رحمة للعالمین» یم، او دغه دی ستا قوم له قحط او د وچکالی له لاسه تباه او فنا کېږي، نو مونږ تاسې ته د مرحمت او شفقت او د قرابت وسائط در وړاندې کوو، څو د دغه مصیبت د لرې کېدلو لپاره دعاء وکړئ، که دغه قحط او مصیبت له مونږ څخه پورته شو؛ نو مونږ ټول سره ایمان راوړو، لکه چې د دوی په دعاء سره باران وشو، او له یمامې څخه د غلې کوم ګودامونه چې منع کړی شوي وو؛ هغه هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حکم سره سم بېرته جاري شول، مګر سره له دې هم دوی مسلمانان نه شول، د همدې په نسبت فرمایي: ﴿أَنَّىٰ لَهُمُ الذِّكْرَىٰ﴾ یعنې دغه خلق د دغې خبرې له سره منونکي نه دي، په دغه قسم شیانو دوی په زرهاوو تأویلات له خپله ځانه جوړوي، هغه شیان چې بیخي لکه د لمر په شان عیان او روښان دي یعنې ستاسې نبوّت دوی نه مني، او تاسې ته د مجنون نسبت کوي، او ځینې داسې وایي چې: دی له هغه رومي مریي څخه ځنې خبرې زده کړي دي، او بیا یې پخپل عبارت سره اداء کوي، له داسې متعصبو معاندینو څخه د کوم شي د پوهېدلو څه توقّع کېدی شي؟.

إِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيلًا إِنَّكُمْ عَائِدُونَ ﴿۱۵﴾

بېشكه مونږ لرې كوونكي يو د دغه عذاب (په دعاء دنبي) لږ مدّت، بېشكه تاسې بېرته ګرځيدونكي يئ (كفر خپل ته).

تفسير: يعنې كه مونږ د لږ څه مدّت له مخې له دوى ځنې عذاب لرې كړو؛ دوى به بيا پخپلو هم هغو حركاتو لاس پورې كوي، چې پخوا له دې نه به يې كول، او د ابن مسعود رضي الله تعالى عنه له تفسير سره موافق به يې داسې مطلب كيږي: درواخلئ مونږ د لږ څه مدّت له مخې دغه عذاب له دوى ځنې لرې كوو، تاسې وګورئ چې دوى به په هم هغسې اعمالو مداومت كوي چې پخوا له دې نه هم په هغه كې مشغول وو.

يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَىٰ ۚ إِنَّا مُنتَقِمُونَ ﴿۱۶﴾

(ياده كړه) هغه ورځ چې وبه نيسو مونږ (دغه كفّار) په نيولو سختو لويو سره، بېشكه مونږ خامخا انتقام اخيستونكي يو (په دغه ورځ كې).

تفسير: د ابن عباس رضي الله تعالى عنهما په نزد به لويه نيونه په قيامت كې وي، غرض دا دى چې د آخرت عذاب له سره نه منع او نه بېرته ګرځېدونكى دى، د ابن مسعود رضي الله تعالى عنه په نزد له لويې نيونې څخه د «بدر» غزا مراده ده، چې په دغې غزوې كې له كفّارو څخه بدل او انتقام واخيست شو.

وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَاءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ ﴿۱۷﴾

او خامخا په تحقيق ازمويلي وو مونږ پخوا له دې نه قوم د فرعون، او راغلى وو دوى ته رسول (موسى) عزتمند (په نزد د الله).

تفسير: يعنې د موسى عليه السلام په ذريعه د دوى امتحان واخيست شو، چې آيا دوى د الله تعالى پيغام قبلوي كه نه؟.

أَنْ أَدُّوا إِلَيَّ عِبَادَ اللَّهِ ۖ

(او وويل موسى فرعونيانو ته) چې وسپارئ تاسې په ما باندې بندګان د الله !

تفسير: يعنې د الله تعالى بندګان خپل مريان مه ګرځوئ !، بني اسرائيلو ته له مربيتوبه آزادي ورکړئ !، او ماته يې وسپارئ، چې هر چېرې ځما خوښه وي؛ دوى له خپل ځان سره بوځم.

إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿۱۸﴾ وَأَن لَّا تَعْلُوا عَلَى اللَّهِ ۖ إِنِّي آتِيكُم بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿۱۹﴾

بېشكه زه تاسې ته رسول مُكرم امانتګر يم. او (وويل موسى فرعونيانو ته) چې سركښي مه كوئ پر الله (په اهانت د وحي)، بېشكه چې زه راوړونكى يم تاسې ته د برهان حجّت دليل ښكاره واضح.

تفسير: «برهان، حجّت، دليل ښكاره واضح» هغه معجزات وو چې موسى عليه السلام ښوول لكه عصا، يد بيضاء، يعنې «همسا» او «سپين لاس» او نور.

وَإِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمْ أَن تَرْجُمُونِ ﴿۲۰﴾

او (وویل موسی فرعونیانو ته) چې ببشکه زه پناه نیسم په رب خپل او په رب ستاسې له دې نه چې سنګسار کړئ تاسې ما.

تفسیر: په دغه سره یې د دوی د هغو ویرولو ځواب ورکړ، یعنې ما ستاسې له ظلم او ایذاء څخه د الله تعالی پناه حاصله کړېده، هغه ځما حمایت کوي، او د الله تعالی پر حفاظت زه پوره اعتماد او اطمینان لرم.

وَإِن لَّمْ تُؤْمِنُوا لِي فَاعْتَزِلُونِ ﴿۲۱﴾

او که ایمان نه راوړئ تاسې (ای فرعونیانو !) پر ما؛ پس په څنګ شئ (له ما، پرېږدئ ما).

تفسیر: یعنې که ځما خبره نه منئ، نو اقلاً ماته څه ضرر او ایذاء مه رسوئ !، او په دغه سره خپل جرم مه درنوئ، شاه صاحب (رحمه الله تعالی) لیکي: «یعنې چې خپل قوم بوځم، ته مې لار مه نیسه !».

فَدَعَا رَبَّهُ أَنَّ هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُونَ ﴿۲۲﴾ فَأَسْرِ بِعِبَادِي لَيْلًا إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿۲۳﴾

پس دعا وکړه (موسی) رب خپل ته داسې چې ببشکه دغه (قبطیان) یو قوم دی ګنهګاران (کافران). (نو وفرمایل الله موسی ته چې): پس بوځه بندګان ځما (سبطیان) د شپې، ببشکه تاسې متبوع یئ (د قبطیانو)، (تاسو پسی د فرعون لښکری درځی).

تفسیر: یعنې بالآخر مجبور شو، او د الله تعالی په حضور کې یې عرض او فریاد وکړ، چې دغه خلق له خپلو جرائمو څخه لاس اخیستونکي نه دي، نو اوس ته ځمونږ او د دوی په منځ کې فیصله وکړه !، د ده دعاء فوراً مستجابه او پر موسی علیه السلام امر وشو، چې بې د فرعونیانو له اطلاعه بني اسرائیلو سره د شپې له مخې له مصره ووځئ !، ځکه چې ګهیځ (سحر) له مخې به وروسته له دې نه چې ستاسې له تګه خبر شي؛ نو د تاسې د تعاقب لپاره درپسې وځي، لیکن په یاد یې ولرئ چې په لاره کې ستاسې په مخ کې تریخ سیند درځي، چې هغه به ستا د همسا په اشاره سره دبخوا او هغې لرې کیږي، او په منځ کې وچه صافه لاره تاسې ته پیدا کیږي، چې ته به سره له خپل قومه له هم هغې لارې تېرېږئ.

وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا ۖ إِنَّهُمْ جُندٌ مُّغْرَقُونَ ﴿۲۴﴾

او پرېږده بحر سیند ولاړ (ساکن کوځې کوځې) ببشکه دوی لښکرې دي ډوبې کړی شوې.

تفسیر: یعنې د دغې خبرې په فکر او اندښنې کې مه اوسه !، دغه لاره چې د الله تعالی په قُدرت په دغه سیند کې شوې ده، ببرته پاتې نشي، پرېږده چې دغه لاره هم دغسې پر خپل حال پاتې وي، څو فرعون او فرعونیان یې وګوري او پر تاسې پسې د راتلو همّت او ځغرد (جرأت) وکړي، لکه چې هغوی هم په همدغې وچې کې ننوتل، کله چې ټول د سیند منځ ته ورسېدل؛ دلته الله تعالی د سمندر اوبو ته حکم ورکړ، چې بیا سره یو ځای شي، او په دغه ترتیب سره یې هغه ګرد لاو لښکر ډوب او مغروق کړ، نو فرمایي الله أکرم شأنُه وأعظم برهانُه چې:

كَمْ تَرَكُوا مِن جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿۲۵﴾ وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿۲۶﴾ وَنَعْمَةٍ كَانُوا فِيهَا فَاكِهِينَ ﴿۲۷﴾ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَاهَا قَوْمًا آخَرِينَ ﴿۲۸﴾

څومره ډېر پرېښودل دوی له باغونو او (له) چینو (د اوبو). او (له) فصلونو او ځایونه عمده مخصوص ښایسته. او (له) نعمتونو (او له هسې د هوسایی ـ آرام سامان) چې وو دوی په هغو

(نعمتونو) خوشال خوندور. همداسې (هلاک کوو مونږ مکذبينو لره) او په ميراث مو ورکړل (دغه شيان) قوم بل (سبطيانو) ته.

تفسير: يعنې د بني اسرائيلو په لاسونو کې يې ورکړ، لکه چې د «الشعراء» په سورت کې دي، له دې نه معلوم شو چې د فرعون د غرقېدلو څخه وروسته د بني اسرائيلو تصرّفات او مداخله په مصر کې شروع شوله، او که دغه ثابت نشي؛ مطلب به يې داسې وي: د هم هغو اقسامو سامانونو په شان چې له فرعونيانو څخه پاتې وو؛ هم هغسې شيان مونږ بني اسرائيلو ته هم ورکړل، والله أعلم.

فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ

پس ونه ژړل پر دوی (يا پر هلاکت د دوی) باندې اسمانونو او ځمکې.

تفسير: په رواياتو کې راغلي دي چې د مؤمن د وفات په تقريب کې د اسمان هغه دروازه ژاړي چې له هغې څخه به ده ته روزي نازلېده، يا هغه دروازه چې په هغې کې د ده صالح عمل پورته خوت، او هغه ځمکه به هم ژاړي چې ده به پرې لمونځ کاوه، يعنې افسوس چې هغه سعادت له مونږ ځنې واخيست شو، کله چې له کفارو سره د صالح عمل تُخم نشته؛ نو ده پسې به اسمان يا ځمکه ولې وژاړي؟ بلکه ممکن دي چې د دوی پر مړک خوښ هم شي، چې ښه شو چې دغه يوه بلا له دنيا ورکه شوه.

وَمَا كَانُوا مُنظَرِينَ ﴿۲۹﴾ وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنَ الْعَذَابِ الْمُهِينِ ﴿۳۰﴾ مِن فِرْعَوْنَ ۚ إِنَّهُ كَانَ عَالِيًا مِّنَ الْمُسْرِفِينَ ﴿۳۱﴾ وَلَقَدِ اخْتَرْنَاهُمْ عَلَىٰ عِلْمٍ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿۳۲﴾

او نه وو دوی ته مهلت ورکړی شوی. او خامخا په تحقيق نجات مو ورکړ بني اسرائيلو ته له عذاب سپکوونکي (د قبطيانو). چې له (طرفه د) فرعون وو (چې مجسم مصيبت او آفت وو)، بېشکه دغه (فرعون) وو سرکښه متکبّر له مسرفينو له حده تېرېدونکي سر غړوونکي (په شرک کې). او خامخا په تحقيق غوره کړي مو وو دغه (بني اسرائيل) په علم خپل پر خلقو (د زمانې د دوی).

تفسير: يعنې اګر که د بني اسرائيلو کمزوري او نواقص هم مونږ ته معلوم وو، خو سره له هغه مونږ دوی ته د هغې زمانې پر ګردو خلقو فضيلت ورکړ، او ځينې جزئيه فضائل خو هم هغه دي چې تر نن پورې د بل هيڅ قوم په برخه نه دي شوي، مثلاً د ډېرو انبياوو په دوی کې مبعوثېدل.

وَآتَيْنَاهُم مِّنَ الْآيَاتِ مَا فِيهِ بَلَاءٌ مُّبِينٌ ﴿۳۳﴾

او ور مو کړ دوی ته له دلائلو (د قُدرت خپل په لاس د موسی) هغه چې په هغو کې ازمايش مدد وو ښکاره.

تفسير: يعنې د موسی عليه السلام په ذريعه مثلاً د «منّ او سلوی» نزول د ورېځو سيورې غورځول وغير ذلک.

إِنَّ هَٰؤُلَاءِ لَيَقُولُونَ ﴿۳۴﴾ إِنْ هِيَ إِلَّا مَوْتَتُنَا الْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُنشَرِينَ ﴿۳۵﴾

بېشکه دغه (کفّار) خامخا وايي چې: نه دی دغه عاقبت ځمونږ مګر همدا رومبی مړک ځمونږ دی (په دنيا کې)، او نه يو مونږ راپورته کړی شوی (له قبورو).

تفسير: په منځ کې د موسى عليه السلام د قوم ذکر استطراداً راغلى وو، له دې ځايه بيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د قوم تذکره شروع کيږي، يعنې دوى وايي چې: ځمونږ آخري حالت فقط هم دغه دى چې موت پر مونږ راځي، هر کله چې مړه شو؛ نو وروسته له مرګه بيا نو نورې خبرې اترې له سره نه دي پېښېدونکي، او له موجوده ژوندون څخه ماسوا بل ژوندون بيخي نشته، حشر او نشر، ثواب او عقاب څه شى دى؟ او حساب او کتاب چېرې کيږي.

فَأْتُوا بِآبَائِنَا إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٣٦﴾

پس (ژوندي) راولئ پلرونه ځمونږ که چېرې يئ تاسې صادقين رښتيني (په دغې وينا خپله کې).

تفسير: يعنې رسول الله مبارک او مؤمنانو ته کفار وايي: که تاسې پخپلې دغې وينا کې يئ، او دغه عقيده مو صحيحه وي چې وروسته له مرګه بيا ژوندون هم شته؛ نو ډېره ښه ده، تاسې خو ځمونږ دغه مړه شوي پلرونه او نيکه ګان راژوندي کړئ چې مونږ يې پخپلو سترګو سره ووينو، او په کيفيت يې وپوهيږو.

أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ

(نو فرمائي الله چې) آيا دغه (قريش) غوره دي (په مال او قوت) که قوم د «تبع».

تفسير: «تبع» د يمن د باچا لقب وو، چې د ده حکومت پر سبا، حضرموت او نورو ټولو وو، «تُبّع» ډېر تېر شوي دي، الله تعالى ښه عالم دى چې دلته ترې کوم يو مراد دى؟ په هر حال دومره ترې ظاهر شو چې دغه قوم د ډېر قوّت او قدرت خاوندان وو، چې د خپل طُغيان او تمرّد په سبب هلاک او تباه شو، ابن کثير (رحمه الله تعالى) له دغه قوم څخه د سبأ قوم مرادوي، چې د هغه ذکر د سبأ په سورت کې تېر شوى دى، والله أعلم.

وَالَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ أَهْلَكْنَاهُمْ إِنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿٣٧﴾

او هغه کسان چې پخوا تېر شوي وو له دغو (قوم د تُبّع لکه عاد او ثمود، بلکه قوي نه وو په مال او قوّت؛ نو سره له هغه هم) هلاک کړل مونږ دوى، بېشکه دوى وو ګناهګاران (کافران منکران له بعثه او له قيامته).

تفسير: مثلاً عاد او ثمود او نور، الله تعالى دغه ټول د دوى د ګناهونو په بدل هلاک او تباه کړل، آيا تاسې له دوى نه بهتر زيات زورور طاقتور يئ چې نه مو هلاکوي؟ يا مو نه شي هلاکولى؟.

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَاعِبِينَ ﴿٣٨﴾ مَا خَلَقْنَاهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾

او نه دي پيدا کړي مونږ اسمانونه او ځمکه او ټول هغه شيان چې په منځ د دغو دواړو کې دي حال دا چې لوبې کوونکي يو (يعنې عبث). نه دي پيدا کړي مونږ دغه دواړه مګر په حقه سره، وليکن زياتره د دغو (مشرکانو) نه پوهيږي (په دې چې فعل د حکيم هيڅېرې له حکمته خالي نه وي).

تفسير: يعنې نه مې دي پيدا کړي دغه ټول علويّات او سفليّات بې مطلب او عبث، او دغه لويه کارخانه د څه لوبو او تماشو لپاره نه ده جوړه شوې، بلکه په ډېر لوى حکمت سره پيدا کړى شوې ده، چې د هغې نتيجه ضرور يوه ورځ څرګنديږي، چې همدغه نتيجه آخرت دى.

إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ مِيقَاتُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٠﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِي مَوْلًى عَن مَّوْلًى شَيْئًا وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾
إِلَّا مَن رَّحِمَ اللَّهُ ۚ إِنَّهُ هُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿٤٢﴾

بېشكه ورځ د فيصلې (قيامت په منځ د خلقو كې) وعده (د جمع كولو) د دوى ده د ټولو (چې په دغه ورځ كې د ټولو حساب په يوه وخت كې كيږي). هغه ورځ چې دفع به نشي كولى هيڅ دوست خپلوان له دوست خپل څخه هيڅ شى (له عذابه)، او نه به له دوى سره (له كوم طرفه) مدد وكړى شي (او نه مرسته رسېدى شي). مګر هغه څوك چې رحم پرې وكړي الله (چې مؤمنان دي)، بېشكه الله همدى دى ښه غالب قوي (په انفاذ د احكامو) ډېر رحم كوونكى دى.

تفسير: يعنې بس پر هم هغه چا چې الله تعالى رحمت وكړي، هم هغه به نجات مومي.

إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّومِ ﴿٤٣﴾ طَعَامُ الْأَثِيمِ ﴿٤٤﴾

بېشكه (مېوه د) ونې د زقوم. طعام خواړه د (ډېرو لويو) ګناهګارانو (كافرانو) دى.

تفسير: يعنې د كومې ادنى مشابهت لامله ورته «زقّوم» چې په اردو كې ورته (سيهنډ) وايي ويلي شوي دي، كه نه د دوزخ د زقّوم كيفيت خاص الله ته معلوم دى، لكه چې د جنت ځينې نعمتونه له دنيوي نعمتونو سره نوم اشتراك لري، همداسې د دوزخ په نسبت هم وپوهيږئ.

كَالْمُهْلِ يَغْلِي فِي الْبُطُونِ ﴿٤٥﴾ كَغَلْيِ الْحَمِيمِ ﴿٤٦﴾ خُذُوهُ فَاعْتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَاءِ الْجَحِيمِ ﴿٤٧﴾

په شان د مس (او ژېړ) ويلي كړى شوي، چې ايشيږي په ګېډو كې. په شان د اوبو خوټېدونكيو. (وبه فرمايي الله خازنانو د دوزخ ته چې) ونيسئ دى پس راكاږئ دى برابر منځ د دوزخ ته.

تفسير: دغه د نيولو حكم به هغو پرښتو ته كيږي چې د مجرمينو په تعذيب مأموري دي.

ثُمَّ صُبُّوا فَوْقَ رَأْسِهِ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيمِ ﴿٤٨﴾

بيا ورتويې كړئ پاس پر سر د ده له عذابه د ايشېدلو اوبو.

تفسير: دغه اوبه به د پوزو او دماغو له لارې د دوى ګېډو ته ننوځي، او د دوى كلمي پرې كوي، او د هغو ټوټې د باندې لويږي (أعاذنا الله منه).

ذُقْ ۖ إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْكَرِيمُ ﴿٤٩﴾

(وبه ويل شي ده لره) وڅكه (دغه عذاب)! بېشكه ته هم دغه ته عزتمن غټ مشر (كافر) وې (په زعم خپل).

تفسير: يعنې ته خو هم هغه يې چې په دنيا كې دى ځان لوى معزّز او مكرّم ګڼه، او خپل مشرتوب او سرداري به دې ثابتوله، اوس دې هغه مشرتوب چېرې لاړ؟.

إِنَّ هَٰذَا مَا كُنتُم بِهِ تَمْتَرُونَ ﴿٥٠﴾

بېشكه چې دغه عذاب هغه دى چې وئ تاسې چې په ده كې به مو شك كاوه.

تفسير: يعنې تاسې کله داسې يقين او باور درلود، چې له دغه ورځې سره به مخامخ کېږئ؟، تاسې په دغه شک او شبهه کې وئ چې فقط مونږ همدلته لوبې او چرچې کوو، او په هم دغې مشغولتيا کې خپل عمر تېروو، کله چې مړه شو؛ نو له خاورو سره ګډوډ کيږو، او وروسته له هغه بل هيڅ شی پر مونږ نه دی راتلونکی، اوس خو مو پخپلو سترګو وليدې چې هغه ټولې خبرې رښتيا وې، چې انبياء عليهم السلام به د هغو بيان تاسې ته کاوه.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ ﴿٥١﴾

بېشکه چې متّقيان به په ځای د امن کې وي (له ټولو مکروهاتو).

تفسير: يعنې هغه کسان چې دلته له الله تعالی څخه ويريږي، هلته به ډاډه، هوسا او مطمئن اوسيږي، او هيڅ ډول خوف او غم به دوی ته نه رسيږي.

فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٢﴾ يَلْبَسُونَ مِن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَقَابِلِينَ ﴿٥٣﴾

په جنتونو او چينو کې چې اغوندي به (دوی جامې) له ورېښمو نازکو، او له ورېښمو پېړو (غټو) په دې حال کې چې سره مخامخ به ناست وی.

تفسير: يعنې د دوی پوښاک (لباس) به له نريو او پرپړو ورېښمينو کالیو (کپړو) څخه وي، او يو جنّتي به له بل جنّتي څخه له سره اعراض نه کوي، او مخ به ترې نه اړوي، او بې تکلفه لکه ډېر خوارې دوستان خپلوان به سره مخامخ کيني، او خبرې اترې به سره کوي.

كَذَٰلِكَ وَزَوَّجْنَاهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٥٤﴾

همداسې به وي (بې تغيره او بې تبديله)، او ملګرې به کړو مونږ دوی له پيغلو سپين پوستو غټو (ښايسته) سترګو سره.

تفسير: يعنې له دوی سره به د دوی جوړې (ښځې) يو ځای کوي.

يَدْعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ آمِنِينَ ﴿٥٥﴾

غواړي به دوی په دغه (جنّت) کې له هر قسم مېوې حال دا چې په امن کې به وي له (انقطاع او ضرر د مېوو او هر مکروه نه).

تفسير: يعنې هره هغه مېوه چې د دوی په زړه کې وګرځي، او دوی يې وغواړي؛ فوراً دوی ته ورحاضروله کيږي، او هيڅ يو فکر او انديښنه به له دوی سره نه وي، په پوره زړه جمعي او اطمينان سره به يې خوري، او څښي، او مسرور به اوسيږي.

لَا يَذُوقُونَ فِيهَا الْمَوْتَ إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَىٰ

نه به څکي دوی په دغه جنّت کې مرګ مګر خو هغه مرګ چې ومبنی (چې تېر شوی دی په دنيا کې).

تفسير: يعنې هغه موت چې پخوا له دې نه راغلی وو، اوس وروسته له دې نه به له سره مرګ او درد تاسې ته نه راځي، دائم به په همدغه عيش او نشاط کې خوښ او خوشال اوسيږئ، چې نه ستاسې خوندور ژوندون ته څه فناء او زوال رسيږي، او نه د هغه وسائلو او وسائطو ته.

وَوَقٰىهُمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ﴿۵۶﴾ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكَ ۚ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۵۷﴾

او وبه ساتي (الله) دوی له عذابه د دوزخ نه. له جهته د فضل له طرفه د رب ستا، دغه (انعام او اکرام) همدا بری دي ډېر لوی.

تفسير: يعني له دي نه به بل لوی بری او کاميابي څه شی کېدی شي چې د الله تعالی له عذابه محفوظ او مأمون پاتې وي، او تر أبد الآباد پورې د الطافو او افضالو مورد ګرځي !.

فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۸﴾

پس بېشکه همدا خبره ده چې اسان کړی مو دی دغه (قرآن) په ژبه ستا لپاره د دې چې دوی پند واخلي (ښه وپوهېږي او ايمان پرې راوړي).

تفسير: يعني پخپلې مورنۍ ژبې سره په اسانۍ پرې وپوهېږي او ياد يې کړي.

فَارْتَقِبْ اِنَّهُمْ مُّرْتَقِبُوْنَ ﴿۵۹﴾

پس منتظر اوسه ته (هلاکت د دوی ته) بېشکه دوی هم منتظر دي (هلاکت د تاته).

تفسير: يعني که دوی ونه پوهېږي؛ نو تاسې څو ورځې انتظار وکړئ، د دوی بد انجام د دوی په مخ کې راتلونکی دی، دوی خو د دغې خبرې په انتظار کې دي، که کومه بده پېښه پر تاسې واقعه شي، ليکن تاسې هم د دوی اخرې خاتمې ته وګورئ چې هغوی ته څه شيان ور دمخه کېدونکي دي؟.

تمّت سورة الدّخان بفضل الله تعالى ورحمته، فله الحمد والمنّة.

سُورَةُ الجَاثِيَةِ

«د (الجاثية) سورت مکّي دی، پرته له (۱۴) آيت څخه چې مدني دی، (۳۷) آيتونه (۴) رکوع لري، په تلاوت کې (۴۵) او په نزول کې (۶۵) سورت دی، وروسته د (الدخان) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنزِيلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴿۲﴾ إِنَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ لَآيٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿۳﴾

نازلېدل دکتاب له طرفه د الله دي چې ډېر غالب قوي دی، ښه حکمت والا دی. بېشکه په (پيدايښت د) اسمانونو کې او په ځمکې کې خامخا ډېر دلائل دي مؤمنانو ته.

تفسير: يعنې که انسان ومني؛ نو په همدغه د ځمکې او د اسمانونو په پيدا کولو او د دوی په دغه منظم او محکم نظام او قوام کې له غور او فکر کولو څخه پر دغه خبره په ښه شان سره پوهېدی شي، چې خامخا د دغو علويه وو، او سفليه وو موجوداتو داسې پيدا کوونکی او ساتونکی شته، چې دغه يې پخپل کامل قدرت، او حکمت سره په دغسې محاسنو او مزاياوو سره جوړ کړي دي، او پخپل لا محدود قدرت سره د هغه حفاظت هم کوي.

وَفِي خَلْقِكُمْ وَمَا يَبُثُّ مِن دَآبَّةٍ ءَايٰتٌ لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿۴﴾

او په پيدا کولو (د هر يوه) ستاسې کې، او په هغه څه کې چې خواره کړي دي (الله په ځمکه کې) له هر قسم دابّې (خوځېدونکيو)؛ ډېر دلائل دي لپاره (د هغه) قوم چې يقين کوي (پر بعث باندې).

تفسير: يعنې که انسان پخپل خلقت او د نورو ساکښانو (جاندارو) او ذوي الأرواحو په خلقت کې غور او فکر وکړي؛ نو د عرفان، او ايقان تر درجو پورې رسوونکي په زرهاوو دلائل او نښې په نظر ورځي چې هر يو يې لوی برهان او قوي استدلال دی په وجود د اله العالمين، او په دې چې يوائې همدغه الله تعالى د عبادت مستحق دی.

وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَآ أَنزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَآءِ مِن رِّزْقٍ

او په اختلاف د شپې او د ورځې (په تياره، او رڼا، تزييد او تنقيص او نورو کې) او په هغه کې چې نازل کړی دی الله له (طرفه د) اسمان له (اسباب د) رزق (باران، حرارت).

تفسير: يعنې اوبه يې د اسمانه له طرفه رانازلې کړي، چې د رزق او روزي ماده ده.

فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَتَصْرِيفِ الرِّيٰحِ ءَايٰتٌ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿۵﴾

پس (الله) ژوندی کړي ده په دې (اوبو) سره ځمکه پس له مرګه (وچوالي) د هغې، او په بدلولو د بادونو (په يو قسم بل قسم سره) دلائل دي لپاره د (هغه) قوم چې عقل چلوي.

تفسير: يعنې که لږ څه هم له پوهې او عقل څخه کار واخلئ؛ نو دغه درمعلومېږي چې دغه امور پرته د هغه زبردست قادر، او حکيم له قوّته او قدرته د بل هيڅا په واک او اختيار کې نشته، لکه چې پخوا له دې نه په څو څو ځايونو کې د دې مفصل تقرير ليکلی دی.

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۚ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَ اللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ۝۶

دغه دلائل د الله دي چې لولو يې مونږ په تا باندې په حقه سره، پس پر کومه يوه خبره پس له (خبرې) د الله (قرآن) او پس له دلائلو د الله ايمان به راوړي دوی؟ (بلکه نه يې راوړي).

تفسير: يعنې له ماسوا الله څخه بل کوم شی د بندګی او عبادت وړ او مستحق دی؟ او بغير د الله له خبرو ځنې بل کوم کلام داور ښدلو او منلو قابل دی؟ کله چې د داسې لوی مالک داسې رښتيا او صافې او سمې خبرې هم کوم بد بخت نه قبلوي؛ نو بالآخر دوی د کوم شي په انتظار کې دي چې هغه به بيا مني؟.

وَيْلٌ لِّكُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ ۝۷ يَّسْمَعُ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُتْلٰى عَلَيْهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا ۚ

خرابي هلاکت افسوس دی هر دروغ ترونکي، ګناهګار ته. چې اوري آيتونه د الله چې لوستل کيږي پر ده، بيا لا ښه کلک شي (په کفر خپل) په دې حال کې چې متکبّر (ګرځېدونکي وي له ايمانه) دی، لکه چې يې نه دي اوريدلي هغه (آيتونه).

تفسير: يعنې د ضد او غرور له سببه د الله تعالی خبرې نه اوري، او تکبّر او لويي ورته اجازه نه ورکوي چې له خپل جهالت او حماقت څخه لاس واخلي، کله چې حقه او رښتيا خبره اوري، داسې ترې مخ اړوي لکه چې له سره يې نه وي اوريدلې.

فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝۸ وَاِذَا عَلِمَ مِنْ اٰيٰتِنَا شَيْـًٔا اتَّخَذَهَا هُزُوًا ۭ اُولٰۗىِٕكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝۹

پس زېرى ورکړه ده ته په عذاب دردناک سره. او کله چې يوه شي له آيتونو (د قرآن) ځمونږ پر يوه څه شي؛ نو نيسي يې په ټوکو او مسخرو، دغه (دروغجنان متکبّران مسخره کوونکي) شته دوی ته عذاب سپکوونکی.

تفسير: يعنې څرنګه چې دوی له آيات الله سره د اهانت او استخفاف معامله کوي؛ نو د هغه سزاوې به همدوی ته سره له سخت اهانت او ذلّت وررسيږي، چې ذکر يې دغه دی.

مِنْ وَّرَاۗىِٕهِمْ جَهَنَّمُ ۚ وَلَا يُغْنِيْ عَنْهُمْ مَّا كَسَبُوْا شَيْـًٔا وَّلَا مَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَاۗءَ ۚ

وروسته له (مرګه) د دوی دوزخ دی، او دفعه به نه کړي له دوی نه هغه څيز چې کسب کړی وي دوی، هيڅ څيز (له عذابه)، او نه (به دفعه کوي) هغه معبودان چې نيولي دي دوی بې له الله دوستان.

تفسير: يعنې اموال او اولاد او نور شيان به سره هلته پکار ورنشي، او نه هغه شيان په کار ورځي چې هغوی له ماسوا الله څخه معبودان دوستان او رفيقان ګرځولي شوي وو، او له هغوی ځنې يې د ډېر امداد او اعانت توقّعات هم درلودل.

وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠﴾ هَٰذَا هُدًى ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَهُمْ عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ ﴿١١﴾

او شته دوی ته عذاب ډېر لوی (د دوزخ). دغه (قرآن کامل) هدایت دی، او هغه کسان چې کافران شوي دي په آیتونو د رب خپل شته دوی ته عذاب له (هغه ډېر سخت) عذاب درد رسوونکي نه.

تفسیر: یعنې دغه لوی عظیم الشأن برکت او ستر هدایت دی چې د هر راز ښو او بدو لارې او چارې انسانانو ته ښیي، هر هغه څوک چې د دغه لوی قرآن احکام او بیان نه مني، هغه دې خپل ځان د ډېر سخت غلیظ او دردناک عذاب ګاللو لپاره آماده او تیار کړي !.

اَللّٰهُ الَّذِیْ سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ لِتَجْرِیَ الْفُلْكُ فِیْهِ بِاَمْرِهٖ

الله هغه (ذات) دی چې مسخّر (تابع) کړی یې دی تاسې ته بحر سیند لپاره د دې چې ګرځي ببړۍ په دغه (بحر) کې په امر حکم د الله سره.

تفسیر: یعنې د سمندر په شان مخلوق مو تاسې ته داسې تابع او مسخر ګرځولی دی، چې تاسې بلا تکلفه د خپلو ببړیو او جهازونو په وسیله پرې ګرځئ، او له میلونو میلونو ژورو اوبو له پاسه پرې تېرېږئ، او له یوې وچې څخه بلې وچې ته پرې رسېږئ.

وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢﴾

او لپاره د دې چې طلب کوئ تاسې له فضله د الله، او لپاره د دې چې شکر یې وباسئ.

تفسیر: یعنې بحري تجارت وکړئ !، یا ښکار وکړئ !، یا د ده له منځه مرغلرې او نور شیان وباسئ، او د دغو ګردو منافعو او فوائدو د حاصلولو په وخت کې هغه حقیقي منعم مه هېروئ !، او د ده حق اداء کړئ ! او قدر یې په ښه شان سره وپېژنئ !، او په ژبه او زړه او قلب او قالب سره یې شُکریه اداء کړئ !.

وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ

او په کار لګولي مسخر کړي یې دي تاسې ته هر هغه شیان چې په اسمانونو کې دي (لکه لمر، قمر، نجوم) او هر هغه شیان چې په ځمکه کې دي (لکه اوبه، خاوره، او حیوانات او نور) ټول (مسخّر) له (طرفه د) الله (دي).

تفسیر: یعنې پخپل حکم او قُدرت سره یې دغه ګرد شیان ستاسې په کار کې لګولي دي، دغه د الله تعالی لویه مهرباني او فضل دی، چې دغسې عظیم الشأن مخلوقات یې د انسانانو د خدمت، منفعت، او چرچو لپاره په کار کې لګولي دي.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٣﴾

بېشکه په دغه (تسخیر) کې خامخا لوی دلائل دي لپاره د هغه قوم چې فکر کوي (په دغو مخلوقاتو کې).

تفسیر: که انسان فکر او غور وکړي؛ نو پوهېدلی شي چې دغه شی د ده له توانه، قوّته او قدرته وتلی وو، محض د الله تعالی په فضل او د ده د کامل قدرت په برکت دغه ګرد شیان ځمونږ په کارونو کې بوخت او لګیا دي.

قُل لِّلَّذِينَ آمَنُوا يَغْفِرُوا لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ اللَّهِ

ووايه (اى محمده) هغو كسانو ته چې ايمان يې راوړى دى چې مغفرت (ښښنه) وكړي (د ازار) هغو كسانو ته چې اميد نه لري د ورځو (وقائعو حوادثو) د الله.

تفسير: له «أيام الله» يعنې د الله له ورځو څخه هغه ورځې مراد دي، چې په هغو كې الله تعالى خپلو دښمنانو ته كومه خاصه سزا وركړي، يا پر خپلو بندګانو كوم مخصوص انعام او اكرام ابذال او احسان كړي، لهذا له ﴿قُل لِّلَّذِينَ آمَنُوا يَغْفِرُوا لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ اللَّهِ﴾ څخه هغه كفّار مراد دي چې د الله تعالى له رحمت څخه بيخي ناامېده او د ده له عذابه څخه بيخي بې فكره وي.

لِيَجْزِيَ قَوْمًا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾

لپاره د دې چې جزاء وركړي (الله) هغه قوم ته پر هغه چې وو دوى چې كسب كول به يې.

تفسير: يعنې اى مسلمانانو ! تاسې د دوى د بدل او انتقام اخيستلو په فكر كې مه اوسئ !، د هغوى معامله پاك الله ته وسپارئ !، هغه پخپله دوى ته د دوى پر شرارتونو كافي او پوره سزا وركوي، او د مؤمنينو د صبر، تحمّل، عفوې او تېر بدلو مناسبه صله هم وركوي.

مَّنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهِ ۖ وَمَنْ أَسَاءَ فَعَلَيْهَا ۖ

هر هغه څوك چې وكړي (كوم كار) نېك؛ نو (وكړه ده دا كار) لپاره (د نفع) د ځان خپل، او هر هغه څوك (چې وكړي كوم كار) بد؛ پس پر همده دى (وبال، او ضرر يې).

تفسير: يعنې د ښو كارونو مناسبه صله هغو كار كوونكيو ته رسېدونكې ده، الله تعالى هغه ته هيڅ ضرورت نه لري، او بدي كوونكى پخپله په خپل حق كې خراب تخم شندي او كري يې.

ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴿١٥﴾

بيا خاص رب ستاسې ته به بيول كېږئ (په قيامت كې لپاره د جزاء د اعمالو).

تفسير: يعنې څه مهال چې هلته ورسېږئ؛ نو د دوى ټول ښېګڼه او خرابي د دوى په مخه ورځي، او هر يو به د خپلو اعمالو او چارو نتيجه او سزا وموميِ، او د خپل عمل د مېوې خوند به وڅكي.

وَلَقَدْ آتَيْنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ

او خامخا په تحقيق وركړى وو مونږ بني اسرائيلو (اولادې د يعقوب) ته كتاب (تورات)، او حكم (په تورات په ما بين د خلقو كې)، او نبوّت (موسى او هارون ته له دوى نه)، او روزي وركړى مو وه دوى ته له څيزونو پاكو حلالو (لكه من او سلوى).

تفسير: يعنې «تورات» يې وركړ، او سلطنت يا د فيصلې قوّت يا د پوهنې خبرې، يا د دين پوهه يې درعطا كړه، او ډېر زيات انبياء الله يې په تاسې كې مبعوث كړل، دغه خو روحاني غذاء وه، كه جسماني غذاء ته وګورئ؛ هغه يې هم په كثرت او افراط سره تاسې ته درعطاء كړې ده، تر دې چې «من، او سلوى» يې هم پر تاسې نازل كړل.

وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶﴾

او فضيلت ورکړی وو مونږ دوی ته پر خلقو (د زمانې خپلې).

تفسير: يعنې د هغې زمانې پر ګردو خلقو دوی ته کلي فضيلت حاصل وو، او د ځينو جزئيه وو فضائلو په اعتبار، نو د هغې زمانې قيد لګولو ته هم دومره ضرورت نه پاتې کيږي.

وَاٰتَيْنٰهُمْ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْاَمْرِ ۚ

او ورکړي وو مونږ دوی ته ښکاره دلائل له امره (له ديني احکامو).

تفسير: يعنې نهايت واضح او مفصّل احکام، يا ښکاره واضح معجزات چې د دين په باب کې د حجّت او بُرهان په شان وړاندې کول کيږي.

فَمَا اخْتَلَفُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۭ اِنَّ رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۷﴾

پس ونه کړ اختلاف (دوی په امورو د دين کې) مګر پس له هغه چې راغی دوی ته علم له جهته د هغه ضد او عناد چې وو په منځ د دوی کې، بېشکه رب ستا به حکم وکړي په منځ د دوی (او ستاسې) کې په ورځ د قيامت په هغه شي کې چې وو دوی چې په هغه کې به يې سره اختلاف کاوه.

تفسير: يعنې دوی له ضده او عناده او له خپل نفسانيته اصلي کتاب پريښی دی، او بېشماره فرقې جوړې شوي دي، چې د دوی عملي فيصلې به د قيامت په ورځ کيږي، او هلته به دوی ته ښه معلوم او دغه پته به ولګيږي، چې د دوی منشأ ماسوا د نفس پاللو او هوا او هوس خوښولو پرته بل هيڅ شی نه وو.

ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰي شَرِيْعَةٍ مِّنَ الْاَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَاۗءَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸﴾

بيا مو وګرځولې ته ولاړ پر شريعت ارته لاره له کاره د دين، پس متابعت وکړه د هغه، او متابعت مه کوه د ارزوګانو د هغو کسانو چې نه پوهيږي دوی (په حقيقت د توحيد).

تفسير: يعنې د دغو اختلافاتو او د ګوند (ډلې) اوګوندبازی (ډله بازی) په موجوديت کې مونږ تاسې د دين په صحيحه لارې قائم کړئ، نو تاسې ته او ستاسې امّت ته لازم دي چې پر دغسې سمې صافې برابرې لارې باندې برابر او مستقيم واوسئ، او هيڅ کله په خطأ او تېروتلو سره هم د دغو جاهلانو او ناپوهانو په فکر غوښتنه او خواهشونو مه ځئ !.

اِنَّهُمْ لَنْ يُّغْنُوْا عَنْكَ مِنَ اللّٰهِ شَيْـــًٔا ۭ

بېشکه چې دوی له سره به دفعه نه کړي له تا له (عذابه د الله تعالی) هيڅ شی.

تفسير: يعنې د دوی په طرف ستاسې متمايل کېدل تاسې ته د الله تعالی په نزد هيڅ په درد نه خوري، او په کار نه درځي.

وَإِنَّ الظَّٰلِمِينَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۖ وَٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿١٩﴾

او بېشكه چې ظالمان ځينې د دوی دوستان دي د ځينو نورو، او الله دوست دی د متّقيانو (په اعانت نصرت اثابت سره).

تفسير: يعنې منصف او رښتيا خوښوونكي مسلمانان د ظالمانو او بې لارې كفّارو رفيق او ملګری له سره نشي كېدی، دوی خو د الله تعالی مطيع بندګان دي، او الله تعالی هم د دوی رفيق ناصر او مددګار دی، لازم دي چې دوی پر هغې سمې لارې لاړ شي، او پر هم هغې باندې اعتماد او توكل ولري.

هَٰذَا بَصَآئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿٢٠﴾

دغه (قرآن) بصيرتونه پندونه دي لپاره د خلقو، او هدايت لار ښوونه ده، او رحمت دی لپاره د هغه قوم چې يقين راوړي (پر بعث باندې).

تفسير: يعنې دغه قرآن پر ډېر بصيرت زياتونكيو مشتمل دی، خلقو ته د كار ښې خبرې ښيي، او د بري او كاميابی لارې هغوی ته ښيي، او هر هغه خوش قسمته او بختور سړی چې پر دغو هدايتو او نصائحو باور او يقين وكړي، او په ښه شان سره پرې عامل شي؛ نو د دوی په حق كې په خصوصي ډول سره دغه قرآن رحمت بركت او لوی نعمت دی.

أَمْ حَسِبَ ٱلَّذِينَ ٱجْتَرَحُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن نَّجْعَلَهُمْ كَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ ۚ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٢١﴾

آيا ګمان كوي هغه كسان چې كړي يې دي بد كارونه (د شرك او كفر) د دې چې وبه ګرځوو مونږ دوی (په آخرت كې) په شان د هغو كسانو چې ايمان يې راوړی دی، او كړي يې دي ښه (عملونه) برابر (يو شانې) به وي ژوندون د دوی او مرګ د دوی؟ (بلكه نه دي برابر)، بد دی هغه چې حكم كوي دوی (چې دا برابري ده).

تفسير: يعنې د الله تعالی د حكمت پر شئون له نظر اچولو څخه آيا كوم عاقل داسې اټكل او ګمان كولی شي چې له يو بد عمله او له يو صالح انسان سره به رب المنّان څرنګه يو شان معامله وكړي؟ او د دغو دواړو آخره خاتمه به څنګه سره برابره كړي؟ داسې له سره كېدونكي نه دي، نه دغه دواړه په دغه ژوندون كې سره يو شان دي، او نه به له مړ كېدلو څخه وروسته يو شان وي، او هغه د علوّ، نصرت، او مغفرت وعدې چې دلته ورسره كړی شوي دي؛ هغه د يوه بدكار كافر په برخه كله كېدی شي.

وَخَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ وَلِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٢﴾

او پيدا كړي دي الله اسمانونه، او ځمكه په حقه سره (لكه چې مناسب وو)، او لپاره د دې چې جزاء وركړه شي هر نفس ته په هغه عمل سره چې كړی يې وي، او پر دوی به ظلم ونه كړی شي (په تزييد د سيئاتو يا تنقيص د حسناتو).

تفسير: يعنې ځمكه او اسمانونه يې همداسې خوشې او چټې نه دي پيدا كړي، بلكه په نهايت حكمت سره يې د كوم خاص مقصد او مصلحت لپاره پيدا كړي دي، څو مخلوق د هغو پر احوالو غور او دقّت وكړي، چې كوم شيان يې جوړ كړي، او له هغو ځنې دغه خبره ځان ته معلومه كړي، او اندازه يې ولګوي چې يوه ورځ هرومرو د دغو

موجوداتو او د دغې عظيم الشأنې کارخانې نتيجه هم ظاهر بدونکې ده، چې هغه ته آخرت وايي، او هلته به هر چاته د ده د اعمالو جزاء او سزا، ثمره او نتيجه ور وړاندې کيږي، او هر څه يې چې کرلي وي؛ هغه به ريبي.

د عمل له مکافاته غافل مه شه «»» له غنمو غنم کيږي له اربشو نه اربشه

أَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ

آيا پس وينې ته هغه څوک چې نيولی وي ده معبود خپل خواهش (د نفس) خپل، او ګمراه کړی وي ده لره الله په علم باندې (چې استعداد يې ورته معلوم دی په ازل کې)، يا سره له علمه.

تفسير: يعنې الله تعالى ته معلوم دي چې د هغه استعداد خراب دی، او د دغې خبرې وړ او مستعد دی، چې له سمې لارې څخه دې لوري ته او بل لوري ته درومي، يا دا مطلب چې هغه بدبخت وروسته له علم، پوهې، ايقان او اذعان ګمراه شوی دی.

وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِۦ وَقَلْبِهِۦ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِۦ غِشَٰوَةً فَمَن يَهْدِيهِ مِنۢ بَعْدِ ٱللَّهِ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٣﴾

او مهر لګولی وي الله تعالى پر غوږونو د ده، او پر زړه د ده، او ګرځولی يې وي پر سترګو د ده پرده، پس څوک به لاره وښيي ده ته پس له (ګمراه کولو د) الله (ده لره)، پس آيا تاسې پند نه اخلئ (او غور او دقّت نه کوئ، بلکه پند پرې واخلئ).

تفسير: يعنې هغه سړی چې محض خپل نفساني خواهش خپل حاکم او معبود وګرځوي، او هر چېرې يې چې خواهش وي؛ هغه لوري ته لاړ شي، او د حق او باطل د معلومولو او بېلولو معيار له ده سره هغه د ده نفساني خواهش او غوښتنه وي؛ نو الله تعالى دی د ده په هم هغې خوښې کړې ګمراهۍ کې پريږدي، بيا د ده حالت داسې کيږي چې نه يې غوږونه پند او نصيحت اورېدی شي، او نه يې په زړه کې رښتيا خبرې ځای نيولی شي، او نه پرې پوهېدلی شي، او نه د ده په سترګو کې د بصيرت رڼا بريښي، ظاهر دی چې الله تعالى هر هغه څوک چې د ده د اعمالو په سبب داسې يوه حالت ته رسوي، بل به کوم قوّت او طاقت وي چې وروسته له هغه دی پر هغې سمې لارې راولي.

وَقَالُوا۟ مَا هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَآ إِلَّا ٱلدَّهْرُ ۚ

او وايي (کُفّار) نشته ژوندون مګر همدغه ژوندون ځمونږ دی په دغې دنيا کې، چې مړه کيږو او ژوندي کيږو، او نه مو هلاکوي مګر زمانه.

تفسير: يعنې کُفّار وايي: ماسوا له دغه ژوندانه بل ژوندون نشته، بس همدغه دنيا ده چې مونږ په کې ژوندون کوو، او مرو لکه چې د باران په اثر په ځمکه کې شينکي او ترکودی زرغونيږي، لوييږي، وچيږي، او بيا له منځه ورکيږي، د انسان حال هم پر همدغه قياس کړئ، چې يو وخت پيدا کيږي، او تر يوه معينه وخته پورې ژوندون کوي، او بالآخر د زمانې چورلېدل او تدوير يې له منځه پورته کوي، او ژوندون ته يې خاتمه ورکوي.

وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٢٤﴾

او نشته دوی ته په دغه (انتساب د مرګ زمانې ته) هيڅ قدر علم پوهه، نه دي دوی مګر ګمان کوي (او اټکل چلوي، او دغه خبره بې دليله وايي).

تفسير: يعني «دهر» د زماني نوم دی، چې هغه هيڅ کار کوونکی نه دی، ځکه چې په هغه کې نه حس شته او نه شعور، او نه اراده لا محاله، د دوی مقصد به له دې نه بل کوم شی وي چې هغه د دوی په زعم نه معلوميږي، ليکن په دنيا کې د هغه تصرّفات چليږي، نو بيا د همدغو تصرّفاتو او تحوّلاتو نسبت ولې پاک الله تعالی ته ونه کړی شي، چې د ده وجود او علی الاطلاق متصرفوالی له فطري دلائلو او عقلي او نقلي براهينو څخه ثابت شوی دی، او د زماني تحوّلات تبديلات او انقلابات او د ورځې او د شپې تبديل او اختلاف او نور ټول د ده په لاس کې دي، همدغه معنی په حديث کې ښوولې شوې ده چې «دهر» الله دی، نه ښايي چې دهر ته بد وويلی شي، ځکه څه وخت چې انسان «دهر» ته بد وايي، په دې نيت يې وايي چې: د دهر حوادث ورته منسوبيږي، حال دا چې د دهر ټول حوادث د الله تعالی په مشيئت او ارادې سره کيږي، نو د دهر بد ويل په حقيقت کې د الله تعالی په حضور کې بې ادبي او ګستاخي ده، أعاذنا الله منه.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ إِلَّا أَن قَالُوا ائْتُوا بِآبَائِنَا إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٥﴾

او هر کله چې ولوستل شي پر دغو (کفّارو) آيتونه (د قرآن) ځمونږ ښکاره؛ نو نه وي حُجّت دليل د دوی مګر دا چې وايي: راولئ پلرونه ځمونږ که چېرې يئ تاسې رښتيني (په دغې وينا خپلې کې چې پس له مرګه بيا ژوندون دی).

تفسير: يعني کله چې د لوی قرآن آيات يا د بعث بعد الموت دلائل دوی ته اورول کيږي؛ نو وايي چې: مونږ له سره د دغو دلائلو منونکي نه يو، هو ! که تاسې پخپله په دغې دعوی کې رښتيني يئ؛ نو ځمونږ مړه پلرونه او نيکونه راژوندي کړئ، او راويې ښيئ، نو خامخا مونږ به ستا دغه ګردې خبرې منو، چې بېشکه پس له مرګه په حقه او رښتيا سره بيا ژوندي کېدل شته.

قُلِ اللَّهُ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې الله ژوندي کوي تاسې، بيا مړه کوي تاسې، بيا به سره ټولوي تاسې ورځې د قيامت ته چې نشته هيڅ شک په (راتلو د) هغې کې، وليکن زياتره (کافران) خلق نه پوهيږي، (نو ځکه تر اوسه انکار کوي).

تفسير: يعني هغه ذات چې يو ځلې مو ژوندي کوي، او بيا مو وژني؛ هغه ته دغه کار څه سختي او اشکال لري چې تاسې بيا ژوندي کړي، او بيا مو ګرد سره يو ځای راټول او جمع کړي؟.

وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَخْسَرُ الْمُبْطِلُونَ ﴿٢٧﴾

او خاص الله لره دی سلطنت د اسمانونو او د ځمکې (سره له اسمانونو او ځمکې، خلقًا، ملکًا، وعبيدًا) او په هغه ورځ کې چې ودريږي قيامت، نو په دغه ورځ به زيانکاره شي مبطلان (کافران).

تفسير: په هغې ورځې کې چې ذليل، سپک او خوار ودريږي؛ نو هلته به دوی ته دغه خبره ښکاره او څرګنديږي چې تېروتلي او غولېدلي وو.

وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً ۚ كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَىٰ إِلَىٰ كِتَابِهَا ۖ الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۲۸﴾

او وبه ويني ته (اى كتونكيه په قيامت كې) هر امّت ناست پر ځنګنونو خپلو (له خوفه او هيبته)، هر يو امّت به رابللى شي په طرف د كتاب اعمالنامې خپلې (نو وبه ويل شي دوى ته له جانبه د الله چې) نن ورځ به جزاء دركړه شي (تاسې ته د) هغو (اعمالو) چې وئ تاسې چې كول به مو (په دنيا كې).

تفسير: يعنې د اعمالنامې په طرف بلل كيږي، چې راځئ سم له دې سره حساب راكړئ !، نن هر سړي ته د ده له هغه عمل سره سم بدل جزاء او سزا وررسيږي، چې په دنيا كې يې كړي وي.

هٰذَا كِتَابُنَا يَنْطِقُ عَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ ۚ

دغه كتاب ځمونږ دى خبرې كوي (او شاهدي وايي) پر (اعمالو د) تاسې باندې په حقه سره.

تفسير: يعنې هر هغه كار چې كړى يې وي، دغه اعمالنامه به هم هغه په پوره او كامل صورت سره درښيي، او د يوې ذرې به هم په هغه څه تزييد او تنقيص نه كيږي.

إِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۲۹﴾

بېشكه مونږ وو چې امر به مو كاوه په ليكلو سره د هر هغه څه چې وئ تاسې چې كول به مو (په دنيا كې).

تفسير: يعنې ځمونږ په علم كې هر شى له ازله شته، مګر د دوى د انضباط لپاره ځمونږ پرښتې مقررې دي، چې د دوى ګرد اعمال حقًّا حقًّا وليكي، نن د دوى ليكلى شوى مكمّل رپورټ ستاسې په مخ كې پروت دى.

فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِي رَحْمَتِهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِينُ ﴿۳۰﴾

پس هر چې هغه كسان دي چې ايمان يې راوړى دى، او كړي يې دي ښه (عملونه)؛ پس ننباسي دوى رب د دوى په رحمت (جنّت) خپل كې، دغه (ننوتل د جنّت) همدغه برى دى ښكاره.

تفسير: يعنې په جنّت كې به الله تعالى مؤمنان داخلوي، چې هلته په اعلى درجه سره رحمت او هر قسم مهرباني وي.

وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا أَفَلَمْ تَكُنْ آيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَاسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنْتُمْ قَوْمًا مُجْرِمِينَ ﴿۳۱﴾

او هر چې هغه كسان دي چې كافران شوي دي (وبه ويل شي دوى ته داسې) آيا نه وو آيتونه (د قرآن) چې لوستل كېدل به پر تاسې باندې؛ پس تكبّر مو وكړ (او ايمان مو پرې رانه ووړ)، او وئ تاسې قوم ګناهګاران (كافران).

تفسير: يعنې ځمونږ له طرفه د پندونو او نصيحتونو پوهولو او د حجّت د اتمام ګردې خبرې دوى ته ور رسولى شوي دي، او له هيڅ پلوه هيڅ يو قصور او لنډون په دغه مورد كې نه دى پاتې، خو سره له هغه هم د دوى د غرور او تكبّر سر نه ښكته نشو، او بالآخر د پخو مجرمانو په حيثيت واوښتل، يا له ﴿وَكُنْتُمْ قَوْمًا مُجْرِمِينَ﴾ څخه داسې مطلب واخيست شي چې تاسې لا له پخوا څخه جرائم كوونكي خلق وئ.

وَإِذَا قِيلَ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَالسَّاعَةُ لَا رَيْبَ فِيهَا قُلْتُمْ مَا نَدْرِي مَا السَّاعَةُ إِنْ نَظُنُّ إِلَّا ظَنًّا وَمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِينَ ﴿۳۲﴾

او هر کله چې وبه ویل شو (تاسو ته ای کفّارو چې) بېشکه چې وعده د الله حقه ده (په بیا ژوندون سره) او قیامت، نشته شک په (راتلو) د هغه کې، نو به ویل تاسې: نه پوهیږو چې څه شی دی قیامت، ګمان نه کوو مګر ګمان لږ، او نه یو مونږ یقین راوړونکي (په راتلو د قیامت).

تفسیر: یعنې مونږ په دې باندې هیڅ نه پوهیږو چې قیامت به څرنګه وي؟ ته د قیامت کوم عجیب او غریب احوال چې بیانوې؛ مونږ پر هغه له سره یقین اوباور نشو کولی، هو ! دغو خبرو او اترو او ستا د ډېرو اورولو په اثر یو لږ څه ضعیف امکان او یوه توره تیاره خیال یې ځمونږ په افکارو کې کله نا کله راځي، چې هغه ببله خبره ده.

وَبَدَا لَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا عَمِلُوا وَحَاقَ بِهِمْ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿۳۳﴾

او بنکاره به شي (په قیامت کې) دوی ته ناکاره والی (بدې جزاوې) د هغو (بدو اعمالو) چې کړي وو دوی (په دنیا کې)، او چاپېر (نازل) به شي په دوی (عذاب د) هغه چې وو دوی چې په هغه پورې به یې مسخرې کولې.

تفسیر: یعنې څه مهال چې قیامت راشي، د دوی دغه ټول بد کارونه او د هغو نتائج به د دوی په مخ کې وروړاندې کیږي، او د عذاب او د نورو انذارونو په نسبت څه ټوکې ټکالې چې دوی به کولې؛ هغه ټول به د دوی په مخ کې راځي، او دوی چپ له خپل تصوّره په هم هغو کې اخته او ککړ کیږي.

د عذاب ملائکې په ژبه دغو کفّارو ته د الله جل جلاله أعلى شأنُه وأعظم برهانُه له جانبه دغسې خطاب کیږي چې:

وَقِيلَ الْيَوْمَ نَنْسَاكُمْ كَمَا نَسِيتُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا

او وبه ویل شي چې نن ورځ به هېر کړو (د هېروالي معامله به درسره وکړو) مونږ تاسې (په دوزخ کې) لکه چې هېر کړی وو تاسې ملاقات د ورځې ستاسې دغه (چې ورځ د قیامت ده).

تفسیر: یعنې په دنیا کې دغې لوبې ورځې ته مو هیڅ فکر او خیال نه وو، او بیخي مو هغه نه یادوله، نن مونږ هم په لطف او مهربانی سره ستاسې یادونه نه کوو، او تل تر تله مو په همدغه عذاب کې هم هغسې سره خوشې پرېږدو، لکه چې تاسې په دنیوي مزو، مېلو، او چرچو کې ډوب تللي وئ.

وَمَأْوَاكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِنْ نَاصِرِينَ ﴿۳۴﴾ ذَٰلِكُمْ بِأَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ هُزُوًا وَغَرَّتْكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا

او ځای ستاسې اور دی، او نشته تاسو ته هیڅوک له مدد ګارانو (چې مو تر یې خلاص کړي). دغه (تعذیب له دې سببه دی) چې بېشکه تاسې نیولي مو وو آیتونه (د قرآن) د الله په ټوکو سره، او مغرور کړي وئ تاسې دغه ژوندون لږ خسیس.

تفسیر: یعنې په دنیوي مزو او چرچو کې داسې مشغول او لګیا شوي وئ، چې له سره دغه خبره ستاسې په فکر او خیال کې نه ګرځېده چې کله به دلته راځئ، او له الله تعالی سره مخامخ کېدونکي یئ؟.

فَالْيَوْمَ لَا يُخْرَجُونَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿۳۵﴾

نو نن ورځ وبه نه ايستلى شي دوى له دوزخه او نه به د دوى عذر قبول (او توبه ومنله) شي.

تفسير: يعنې نه دوى له دوزخه ايستل كيږي، او نه داسې كومه موقع دوى ته وركوله كيږي چې په هغې كې څه عبادت او رياضت وكړي، او د رب العزّت د رضاء ميمنت ځان ته حاصل كړي.

فَلِلَّهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْأَرْضِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ ﴿۳۶﴾ وَلَهُ الْكِبْرِيَاءُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿۳۷﴾

پس خاص الله لره ده ټوله ثناء صفت چې رب د اسمانونو او رب د ځمكې دى رب د ټولو عالميانو دى. او خاص الله لره ده لويي په اسمانونو او په ځمكه (په علويّاتو او سفليّاتو) كې، او هم دى دى نښه غالب قوي (په انفاذ د احكامو)، نښه حكمت والا (چې هر كار په تدبير او مصلحت سره كوي).

تفسير: ښايي چې انسان الله تعالى ته متوجه شي، او د ده د احساناتو او انعاماتو قدر وكړي !، او پر هداياتو يې تګ وكړي، او له نورو ګردو څخه ځان وشكوي !، او محض د ده خوښې او رضا ځان ته حاصله كړي !، په حديث قدسي حديث كې راغلي دي: «الكبرياء ردائي، والعظمة إزاري، فمن نازعني واحدا منهما قذفته في النار» «كبرياء ځما څادر دى، او لويي ځما ازار دى، نو هر څوك چې په دغو دواړو كې له ما سره منازعه يا كشمكش وكړي؛ زه به يې په سخت اور كې په غورځولو سره وغورځوم»

تمت سورة الجاثية بعونه وصونه، فلله الحمد والمنة وبه التوفيق.

سُورَةُ الأَحْقَافِ

«د (الأحقاف) سورت مکي دی پرته له (۱۰، ۱۵، ۳۵) آیتونو څخه چې مدني دي، (۳۵) آیته (۴) رکوع لري، په تلاوت کې (۴۶) او په نزول کې (۶۶) سورت دی، وروسته د «الجاثية» له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنزِيلُ الْكِتَابِ مِنَ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴿۲﴾ مَا خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى

رالېږل د دې کتاب (قرآن) دي له طرفه د الله سبه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) سبه حکمت والا دی (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي). نه دي پیدا کړي مونږ اسمانونه او ځمکه او هر هغه څیزونه چې په منځ د دې دواړو کې دي مګر په حقه (لپاره د دې چې دلالت وکړي په قدرت او وحدانیت ځمونږ)، او (په) ټاکلي (مقرر کړې) وعدې سره.

تفسیر: یعنې اسمان او ځمکه او دا ګردې کارخانې الله تعالی خوشې چتې نه دي جوړې کړې، بلکه هغه ګردې یې د یوه غرض او مقصد لپاره پیدا کړي دي، چې تر یوه ټاکلي مدّت او ایښود شوې نېټې او معین میعاد پورې به همداسې چلیږي، کله چې د دې نړۍ نتیجه راښکاره شي؛ نو هغه ته به آخرت وایه شي.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا عَمَّا أُنذِرُوا مُعْرِضُونَ ﴿۳﴾

او هغه کسان چې کافران شوي دي له هغه څیزه چې دوی پرې ویرولی شي (چې قرآن دی) مخ ګرځوونکي دي.

تفسیر: یعنې له بد انجام څخه نه ویریږي، او د آخرت لپاره څه تیاری نه کوي، کله چې د آخرت خبرې اوري؛ نو په یوه غوږ یې ننوځي، او له بل غوږ یې وځي، او ژر تر ژره یې هیروي.

قُلْ أَرَأَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُوا مِنَ الْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمَاوَاتِ

ووایه (ته ای محمده !) آیا وینئ خبر کړئ تاسې ما په (حال د) هغو (معبودانو) چې بولئ یې عبادت یې کوئ تاسې بې له الله، وښیئ تاسې ماته ! کوم دی هغه څیز چې پیدا کړی دی دوی له ځمکې څخه؟ آیا شته دوی ته څه شرکت په (پیدا کولو د) اسمانونو کې؟ (یعنې نشته له الله سره شریک).

تفسیر: یعنې قدّوس الله تعالی اسمان او ځمکه او ګرد مخلوقات پیدا کړي دي، آیا په رښتیا سره ویلی شئ چې د ځمکې کومه ټوټه یا د اسمان کومه برخه بل چا پیدا کړې ده؟ یا یې پیدا کولی شي؟ نو دوی بیا ولې هغه خپل باطل معبودان له الله تعالی سره بولي؟ بلکه زیات له هغه څخه یې ولې ګڼي؟ او ولې غوښتنې ورځنې کوي؟ دا «ام» بمعنی د همزې د انکار دی.

ٱئْتُونِى بِكِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ هَٰذَآ أَوْ أَثَٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿۴﴾

راوړئ تاسې ماته کوم کتاب (چې راغلی وي تاسې ته) پخوا له دغه (قرآنه) یا یوه باقي علامه دلیل له علمه (د پخوانیو انبیاوو) که چېرې یئ تاسې رښتیني (په دې کې چې په عبادت کولو د دې معبودانو به الله ته نژدې کېږئ).

تفسیر: یعنې که دوی د خپل شرک په دعوی کې رښتین وي؛ نو د کوم اسماني کتاب سند دې درښکاره کړي، یا په داسې یو علمي اصول سره دې دا خپله وینا جوته کړي چې د عاقلانو په منځ کې د منلو وړ وي، که پر یو څیز باندې نه عقلي او نه نقلي دلیل په لاس وي؛ نو هغه په څه ډول د منلو او اورېدلو وړ کېدی شي؟.

وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّن يَدْعُوا مِن دُونِ ٱللَّهِ مَن لَّا يَسْتَجِيبُ لَهُۥٓ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ وَهُمْ عَن دُعَآئِهِمْ غَٰفِلُونَ ﴿۵﴾

او څوک دی ډېر ګمراه (یعنې هیڅوک نشته ډېر ګمراه) له هغه چا چې بولي بې له الله څخه هغه چې نشي قبلولی هغه لره (دعاء سؤال) تر ورځې د قیامت پورې، او دغه (مدعو) له دعاء او بلنې د دغو (عابدانو څخه) بې خبره دي.

تفسیر: یعنې له دې څخه به لویه ګمراهي او زیات حماقت څه شی وي، چې یو ناپوه خپل الله تعالی پرېږدي، او له داسې یو بې ژوند او بې واک مخلوق څخه د خپلو اړتیاوو او احتیاجاتو په پوره کولو کې امداد او مرستې وغواړي چې هغوی پخپل مستقل اختیار د هیچا غږ نشي اورېدلی.

وَإِذَا حُشِرَ ٱلنَّاسُ كَانُوا۟ لَهُمْ أَعْدَآءً وَكَانُوا۟ بِعِبَادَتِهِمْ كَٰفِرِينَ ﴿۶﴾

او کله چې راټول کړل شي خلق (لپاره د حساب) وي به (وبه ګرځي) دغه (معبودان) دغو (خپلو عابدانو) ته دښمنان، او وي به (وبه ګرځي) دغه (معبودان) په عبادت د دغو (عابدینو خپلو) منکران.

تفسیر: یعنې په آخرت کې چې امداد او معاونت ته یې ډېره اړتیا او حاجت وي؛ نو دا بې وسه معبودان خپلو عابدانو ته څه مرستې رسولی شي؟ بلکه لکه دښمن د دوی په مخکې ودرېږي، او له دوی څخه به خپله بیزاري او خپګان ښکاره کوي، تر دې چې داسې به هم وایي: ﴿مَا كَانُوٓا۟ إِيَّانَا يَعْبُدُونَ﴾ (۲۰ جزء د القصص سورت (۷) رکوع (۶۳) آیت)، یعنې دا خلق مونږ نه پېژنو، او نه یې زمونږ بندګي کړې ده، نو تاسې فکر وکړئ چې په هغه وخت کې به دوی ته څومره حسرت او ندامت ورپېښېږي.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿۷﴾

او کله چې ولوستل شي پر دغه (اهل د مکې) باندې آیتونه څمونږ ښکاره؛ نو وایي هغه کسان چې کافران شوي دي حق (قرآن) ته کله چې راشي دوی ته؛ چې دا سحر جادو دی ښکاره.

تفسیر: یعنې دا خلق اوس د آخرت هیڅ فکر نه کوي، او نه نصیحت او نه پند او نه ښوونې ته غوږ ږدي، که د پاک قرآن آیتونه دوی ته واورول شي؛ نو په ځغرد سره وایي چې دا خو ظاهر سحر کوډې او جادوی دی.

أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ

بلکه وايي دوی له ځانه يې جوړ کړی دی (محمد دغه قرآن او د الله له جانبه نه دی راغلی).

تفسير: يعنې د جادو ويلو څخه زياته قبيحه او شنيعه د هغوی دا دعوی ده چې قرآن مجيد محمد صلی الله عليه وسلم له خپله ځانه جوړ کړی دی، او د ډېر لويو دروغو نسبت يې الله تعالی ته کوي (العياذ بالله).

قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ فَلَا تَمْلِكُوْنَ لِيْ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ

ووايه (ته ای محمده ! دوی ته) که ما جوړ کړی وی دغه (قرآن فرضًا) له ځانه؛ پس نه به شئ تاسې مالکان (خلاصوونکي) ما لره له (عذاب د) الله په مخکې هيڅ قدر (نو ولې به ترې دغومره لوی دروغ پر الله باندې؟).

تفسير: يعنې پر الله تعالی باندې دروغ ويل ډېر لوی جرم دی، که په فرض محال سره داسې جسارت هم وکړم؛ نو ګواکې په لوی لاس مې خپل ځان د الله تعالی لوی غضب او ډېر سخت عذاب ته وروړاندې کړ، لږ څه خيال خو وکړئ، هغه سړي چې پخپل ټول عمر کې پر بندګانو باندې دروغ نه وي ويلي، او په ډېرو کوچنيو کوچنيو معاملو کې د الله تعالی له ډاره ريږدي؛ نو څرنګه به يو ناڅاپه پر الله تعالی باندې دروغ وايي، او خپل ځان پخپل لاس په داسې لوی عذاب کې اخته کوي، چې د دنيا هيڅ يو قوّت له هغه څخه ژغوروونکی نشي کېدی.

هُوَ اَعْلَمُ بِمَا تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ؕ كَفٰى بِهٖ شَهِيْدًا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ؕ

دغه (الله) ته ښې معلومې دي هغه خبرې چې تاسې لګيا يئ په هغو کې، کافی دی دغه (الله) ښه شاهد حق ښوونکی په منځ ځما او په منځ د تاسې کې (چې دغه قرآن له جانبه د الله دی).

تفسير: يعنې هغه خبرې چې تاسې يې ويونکي يئ، الله تعالی ته هغه ښې معلومې دي، که د الله تعالی حق رسول ته کاذب او مفتري وايئ؛ نو د دې خبرې پای (آخر) دروند دی، ولې چې الله تعالی ته ځمونږ او ستاسې هيڅ کومه پټه خبره پټه نه ده، هغه په خپل صحيح او محيط علم سره موافق د هر چا له چارې سره سمه معامله کوونکی دی، زه هغه پاک الله د خپل او ستاسې په منځ کې شاهدوم، هغه به د خپل قول او فعل سره رابښيي چې کوم يو رښتيا وايي؟ او کوم يو دروغجن دی؟ او افتراء کوي.

وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝۸

او همدغه (الله) دی ښه مغفرت کوونکی (د خطيّاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: يعنې که اوس هم له هغو خبرو څخه خپله خوله ونيسئ؛ نو وبه ښښلی شئ، او وپوهېږئ چې دا ښښنه د الله له لورينې (مهربانی) او بخښنې او حلم څخه ده.

قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ

ووايه (ای محمده ! دوی ته) نه يم زه اول له رسولانو (بلکه ځما نه پخوا هم رسولان تېر شوي دي.

تفسير: يعنې تاسې ځما له دې خبرو څخه ولې دومره بد وړئ؟ ما کوم نوی شی له ځان سره نه دی راوړی، له ما څخه مخکې هم د نبوّت او رسالت سلسله جاري وه، زه هم هغه خبره کوم چې هغوی کوله، له هغو ګردو پيغمبرانو څخه وروسته زه د الله تعالی له لوري رسول او استاځی شوی يم.

وَمَآ أَدْرِي مَا يُفْعَلُ بِي وَلَا بِكُمْ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ وَمَآ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ۝٩

او نه پوهېږم چې څه به وکړل شي له ما سره (په دنيا کې) او نه (پوهېږم) چې څه به وکړل شي له تاسو سره (په دنيا کې)، نه کوم زه پيروي متابعت مګر خو د هغه (حکم) چې رالېږلی شوی دی ماته (چې قرآن دی)، او نه يم زه مګر ويرووونکی يم ښکاره (له عذابه).

تفسير: يعنې زه له دې خبرې سره هيڅ اړه او کار نه لرم، چې ځما د دې کار وروستنی نتيجه څه کيږي؟ او له ما سره به الله تعالی څه معامله کوي؟ او له تاسې سره به څه چارې کوي؟ او نه اوس زه پوره پوره تفصيلونه د خپل او ستاسې د انجام په نسبت ښوولی شم، چې په دنيا او آخرت کې به څه څه پېښې پېښېدونکي وي؟ يوه خبره کوم چې ځما کار يواځې د الله تعالی د وحي اتباع او د الله جل جلاله د حکم امتثال او د کفر او د عصيان له خرابو نتائجو څخه په ډېر ښکاره ډول سره د خلقو پوهول دي.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ اللَّهِ وَكَفَرْتُم بِهِۦ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ مِثْلِهِۦ فَـَٔامَنَ وَٱسْتَكْبَرْتُمْ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝١٠

ووايه (ته ای محمده ! دوی ته) آيا وينئ خبر کړئ تاسې ما (چې څه حال به وي ستاسو) که چېرې وی دغه (قرآن) له جانبه د الله، حال دا چې کافران شوي يئ تاسې په ده سره، او بيا شاهدي ويلې ده يوه شاهد له (علماوو) د بني اسرائيلو په مثل حقيقت د داسې يو کتاب باندې، پس ايمان راوړی وي (پرې هغه شاهد)، اوتکبّر کړی وي تاسې (له ايمان راوړلو پرې، نو آيا تاسو نه يئ ظالمان؟ بلکه خامخا ظالمان يئ)، بېشکه الله نه ښيي سمه صافه لاره قوم ظالمانو ته.

تفسير: په دغه زمانه کې د عربو ناپوهان د بني اسرائيلو له علم او فضل څخه مرعوب وو، کله چې ځمونږ د پيغمبر دنبوّت اوازه (انګازه) خوره شوه؛ نو ګرد مشرکانو د دوی د بعث په نسبت د بني اسرائيلو له پوهانو څخه پوښتنې کولې، او غوښتل يې چې د هغوی په خولو دوی دروغجن وښيي، او د خپلو ويناوو لپاره کومه خبره زده کړي او ويې وايي، چې وګورئ ! د علم خاوندان او اهل الکتاب هم د ده خبرې دروغ ګڼي، خو په دې مقصد کې هم مشرکان تل ناکام شول، او الله تعالی د هم هغو بني اسرائيلو په ژبو ځمونږ د پيغمبر تصديق او تأييد وفرمايه، او دا يې ورښکاره کړه، چې هغوی هم لکه پاک قرآن غوندې يو اسماني کتاب چې «تورات» دی، او يو پيغمبر چې موسی عليه السلام دی؛ لري، نو ځکه د رسالت دعوی او د قرآن نزول او راښکته کېدل کوم نوی شی نه دی، له يهودانو ځينې عالمانو په ښکاره ډول سره هم اقرار وکړ چې بېشکه ځمونږ په «تورات» کې ليکلي دي چې: له عربو څخه به يو عظيم الشأن رسول مبعوث شي، چې ديوه مقدّس اسماني قرآن لرونکی به وی، او دا رسول هم هغه موعود پيغمبر راښکاري، او دا کتاب يې هم هغه اسماني کتاب دی چې مونږ په «تورات» کې لوستلی دی، د يهودانو د عالمانو دا شهادتونه في الحقيقت له هغو پخوانيو ويناوو سره سم وو چې سره له زرهاوو تحريفونو او تبديلو تر اوسه پورې په «تورات» او نورو کتابونو کې ليکل کيږي، چې له هغو څخه راښکاريږي چې د بني اسرائيلو ډېر لوی او مقدس ګواه موسی عليه السلام په زرهاوو کلونه پخوا له دې نه داسې شاهدي ورکړې ده چې د بني اسرائيلو له اقاربو او وروڼو څخه په بني اسماعيل کې به ځما په شان يو پيغمبر راشي، نو سره له دومره شهادتونو که تاسې د خپلې لوينې او غرور لامله هغه نه منئ؛ نو وپوهېږئ چې له دې څخه به کومه سخته ګناه بله نه وي، او داسې ظالم او ګناهګار ته نه ښايي چې د نجات او فلاح څه توقع ولري.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُونَا إِلَيْهِ

او وايي هغه کسان چې کافران شوي دي په حق د هغو کسانو کې چې ايمان يې راوړی دی (داسې) که چېرې وی (دا ايمان راوړل) خير بهتر؛ نو نه به وو ړومبي شوي (دغه خوار مؤمنان) پر مونږ باندې هغه ته.

تفسير: يعنې زياتره مسلمانان کمزوران، غريبان، او مريان دي، که دا دين ښه وی؛ نو ښو سړيو به منلې وروهلې، او د هغه په منلو کې به يې ځمونږ په شان پوهان، لويان، عزتمندان او مالدار څرنګه له دې مريانو او وينځو څخه وروسته پاتې کېدل؟.

وَإِذْ لَمْ يَهْتَدُوا بِهِ فَسَيَقُولُونَ هَٰذَا إِفْكٌ قَدِيمٌ

او کله چې سمه صافه لاره بيا نه مونده دغو (منکرانو) په دغه قرآن سره؛ نو ژر ده چې وبه وايي دوی: دغه (قرآن) دروغ پخواني دي.

تفسير: يعنې پخوانيو خلقو هم تل داسې خبرې سره جوړولې، ښايي چې دا به د ﴿وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ﴾ او د ﴿قُلْ مَا كُنتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ﴾ ځواب وي.

وَمِن قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَىٰ إِمَامًا وَرَحْمَةً ۚ وَهَٰذَا كِتَابٌ مُّصَدِّقٌ

حال دا چې پخوا له دغه (قرآنه) کتاب (تورات) د موسی امام پېشوا لار ښوونکی وو (مؤمنانو ته)، او (سبب د) رحمت وو (پر دوی)، او دغه (قرآن) يو کتاب تصديق کوونکی دی (هغو پخوانيو کتابونو لره).

تفسير: يعنې دا پخواني دروغ نه دي، بلکه پخواني رښتيا دي، چې په زرهاوو کلونو پخوا له دې نه «تورات» هم د همدې اصولو تعليم او ښوونه کړېده، او د هغه اقتداء کړو پيغمبرانو او وليانو کوله، او پخپله بشارتو د تعليم سره يې کړدو راتلونکيو نسلونو ته د هدايت رښتيا ښې لارې وروښوولې، او د رحمت ورونه يې ورپرانيستل.

لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنذِرَ الَّذِينَ ظَلَمُوا وَبُشْرَىٰ لِلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢﴾ إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٣﴾

په دې حال کې چې په ژبه عربي دی لپاره د دې چې وويروي (دغه قرآن) هغه کسان چې ظلم يې کړی دی، «پر ځانونو خپلو په کفر سره» او زېرې (د خوشالۍ) دی نيکوکارانو (مؤمنانو) لره (په جنت سره). بېشکه هغه کسان چې وايي: رب ځمونږ الله دی، بيا ټينګ ودريږي (په عبادت د ده)؛ پس نه به وي (هيڅ) وېره پر دوی، او نه به وي دوی چې خپه به شي (په آخرت کې).

تفسير: همداسې آيت د «حم السجده» سورت په څليرويشتمه سيپاره کې تېر شوی دی، ښايي چې د هغه فوائد هلته ولوستل شي.

أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾

دغه کسان ياران اوسيدونکي د جنّت دي په دې حال کې چې همېشه به وي دوی په دغه (جنّت) کې، ورکوله به شي دوی ته جزاء په سبب د هغو (نېکو عملونو) چې وو دوی چې کول به يې (په دنيا کې).

تفسير: يعني د نېکو چارو په سبب د حق تعالى په رحمت به همېشه په جنت کې پاتې کېږي.

وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا ۖ

او وصيت حکم مو کړی دی هر انسان ته له مور او پلار خپل سره د احسان نېکۍ کولو.

تفسير: د قرآنکريم په څوځايونو کې حق تعالى خپل حق د مور او پلار له حق سره يو ځای بيان فرمايلی دی، ځکه چې حقيقي موجد خو الله تعالى دی، ليکن په عالم اسباب کې د اولاد د وجود ظاهري سبب والدين دي، او د حق تعالى د ربوبيت د شان خاص مظهر وايه شي، دلته هم ړومبی په ﴿إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا﴾ کې د الله تعالى د حقوقو ذکر وو، اوس يې د والدينو حق راوښود، يعني انسان ته حکم ورکړی شوی دی چې له خپلو والدينو سره ښه سلوک وکړي !، د هغوی تعظيم، محبت، خدمت کول او خوښي خپل سعادت وګڼي !، په بل ځای کې يې دا ښوولي دي، که والدين مشرک هم وي؛ بيا هم له هغوی سره په دنيا کې ښايي ښه معامله وکړي !، په تېره بيا د مور خدمت کول چې د ځينو وجوهو لامله د هغې حق دې له پلار څه زيات اداء کړ شي، لکه چې صحيحه احاديث په دې باندې دالّ دي، ځکه چې:

حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا ۖ

پورته کړی (ساتلی) يې دی ده لره (په نس خپل کې) مور د ده په سختۍ سره، او (بيا) يې ايښودلی (ځېړولی) دی ده لره په سختۍ سره.

تفسير: يعني کله چې حمل د څو مياشتو شي، د هغه دروندوالی معلوميږي، چې مور په دې وخت کې او د تولّد په وخت کې څومره صعوبتونه اوتکليفونه پر ځان اخلي، بيا خپل کوچني ته شودې ورکوي، او تر کلونو کلونو هغه هر راز تکليفونه په ځان ګالي، روزنه او پالنه يې کوي، خپله آرامي او هوسايي د هغه په هوسايي او آرامۍ باندې جاروي، پلار هم تر زياتې اندازې پورې په دغو تکليفونو کې مل وي، او د هغه د روزنې وسيلې ورغونډوي، بېشکه چې دا ګردې چارې د فطرت په تقاضا کېږي، او د همدې فطرت تقاضا وي چې اولاد د خپل مور او پلار دا محبت او شفقت محسوس کړي، او د هغوی د هغه محنت ايثار او قدر وکړي.

وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا ۖ

او (دا) پورته کول ساتل د ده (په نس د مور کې) او جلا کول د ده (له تي نه) دېرش مياشتې وي.

تفسير: ښايي د اکثريه عادت لامله يې داسې فرمايلي وي، شاه صاحب (رحمه الله تعالى) ليکي: «که هلک قوي وي، وروسته له يوويشتو مياشتو څخه له شودو بيليږي، او نهه مياشتې د هغه د حمل دی، يا داسې ووايئ چې: لږ تر لږه د حمل مدّت شپږ مياشتې دی، او په دوو کلونو کې کوچنيان عمومًا له تي څخه جلا کېږي، چې ګرده مدّت سره دېرش مياشتې شوې، د رضاع د مودې زيات له دې څخه ډېر کم او نادر دی.

حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً ۖ

تر هغه پورې کله چې ورسېد دی قوّت (د هوښياری) خپلې ته، او ورسېد څلويښت کلونو ته.

تفسير: په څلويښت کلنۍ کې عمومًا د انسانانو عقلي او اخلاقي قوّتونه پخېږي، نو ځکه د انبياوو عليهم السلام بعثت اکثر پخوا له څلويښت کلنۍ څخه نه دی شوی.

قَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِيٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِيٓ أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَٰلِحًا تَرْضَىٰهُ وَأَصْلِحْ لِي فِي ذُرِّيَّتِيٓ ۖ إِنِّي تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّي مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٥﴾

وويل ده: اى ربه ځما ! الهام وكړي ماته په زړه كې توفيق راكړې په دې چې شكر اداء كړم د نعمت ستا هغه چې انعام كړى دى تا پر ما باندې، او په مور او پلار ځما باندې، او (بل دا راته الهام وكړه) چې عمل وكړم نېك چې راضي كيږي ته په هغه، او صلاحيت كښږده ته (يا الله) په اولاده ځما كې، بېشكه ما توبه كړې ده تاته، او بېشكه يم زه له حكم منونكيو څخه (فرمان ستا ته).

تفسير: يعنې سعادتمند سړى داسې وي چې د هغو احساناتو شكريه ادا كړي؛ چې الله تعالى په هغه باندې او د هغه په مور او پلار باندې احسان كړي دي، او د راتلونكي نېك عمل توفيق له الله څخه وغواړي، او د خپل اولاد په حق كې هم د نېكې دعاء طلب وكړي، او له هغه تقصير او لنډوالي څخه چې په حقوق الله او حقوق العباد كې له هغه څخه شوى وي؛ توبه وكړي او د خلوص او تواضع او بندګۍ له لارې څخه د خپل مخلصانه عبوديت او فرمانبردارۍ اعتراف وكړي !.

أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا۟ وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّـَٔاتِهِمْ فِيٓ أَصْحَٰبِ ٱلْجَنَّةِ ۖ وَعْدَ ٱلصِّدْقِ ٱلَّذِي كَانُوا۟ يُوعَدُونَ ﴿١٦﴾

دغه (ټول چې دا يې حال او وينا وي) هغه كسان دي چې قبلوو مونږ له دوى نه ډېر ښه د هغو (كارونو) چې كړي دي دوى، او تيريږو له ګناهونو د دوى نه په دې حال كې چې وي به په يارانو اوسېدونكيو د جنّت كې، وعده كړې ده الله وعده رښتينې هغه (وعده) چې وو دوى چې وعده به يې ورسره كولى شوه (په دنيا كې).

تفسير: يعنې د داسې بندګانو نېكى منلې، بدى يې بښلى كيږي، او د دوى ځاى د الله أعظم شأنُه وأكرم برهانُه له صادقې وعدې سره سم جنّت دى.

وَٱلَّذِي قَالَ لِوَٰلِدَيْهِ أُفٍّ لَّكُمَآ

او هغه (سړى) چې ويې ويل مور او پلار خپل ته (كله چې راويې باله ايمان ته) قباحت او كراهيت دې وي تاسې دواړو لره.

تفسير: د سعادتمن اولاد په مقابل كې يې دغه د بې ادب او نالايق او نافرمان اولاد ذكر وفرمايه، چې مور او پلار هغه ته د ايمان خبرې كوي، او پرې پوهوي يې، مګر هغه پرې نه پوهيږي، او په ډېرو بې ادبو خبرو سره ورته غږيږي، او سپك خطابونه ورته كوي، او ايذاء وررسوي، او دغسې هم هغوى ته وايي چې:

أَتَعِدَانِنِيٓ أَنْ أُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ ٱلْقُرُونُ مِن قَبْلِي ۖ

آيا وعده كوئ تاسې له ما سره (يا وېروئ ما) چې وبه ايستلى شم (له قبره) حال دا چې په تحقيق تېر شوي دي ډېر اهل د زمانې پخوا له ما څخه (او يو هم نه دى ژوندى شوى، نو زه به څرنګه بيا ژوندى شم؟).

تفسير: يعنې د مړ كېدلو څخه وروسته له ژوندي كېدلو څخه انكار كوي، او هيڅ له قيامت او پوښتنې څخه نه ويريږي، او وايي چې: څومره قومونه او تېرونه پخوا له ما څخه تېر شوي دي، نو آيا له هغوى څخه كوم يو سړى تر اوسه پورې بيا ژوندى شوى دى؟.

وَهُمَا يَسْتَغِيثَانِ اللَّهَ وَيْلَكَ آمِنْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ

او هغو دواړو زارۍ کولې الله ته (په دغه حال کې چې ویل دوی) خرابي ده تاته، ایمان راوړه ته ! بېشکه وعده د الله (په بعث بعد الموت سره) حقه رښتیا ده.

تفسیر: یعنې د ده په ګستاخۍ باندې له یوې خوا الله تعالی ته فریادونه او دعاوې کوي، چې ده ته د حق د قبول توفیق ور په برخه شي، او له بلې خوا یې وپوهوي، چې کمبخته ستا کور وران شو، اوس هم وخت دی فکر وکړه !، او ګوره چې د الله تعالی وعده رښتیا ده، د بعث بعد الموت کوم خبر چې د الله تعالی له لوري ورکړ شوی دی؛ بالکل حق او هغه پخپل ټاپې او وعدې پوره کېدونکی دی، او په هغه وخت کې به ستا د دغه (انکار) نتیجه ښه درښکاره شي.

فَيَقُولُ مَا هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ

پس ووایي دی: نه دی دا (قول په بعث) مګر دروغې قصې د پخوانیو خلقو دي.

تفسیر: یعنې داسې قصې مونږ ډېرې اورېدلې دي، د پخوانیو وختونو قصې داسې ډېرې مشهورېږي، چې په رښتیا سره هغه ګردې دروغ دي، او هیڅ خارجي مصداق نه لري، (العیاذ بالله).

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِي أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِم مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ

دا هغه کسان دي چې حقه ثابته شوې ده پر دوی باندې خبره (د عذاب) په جمله د نورو امّتونو خلقو کې، چې په تحقیق تېر شوي دي پخوا له دوی څخه له پیریانو او انسانانو.

تفسیر: د عذاب خبره هم هغه ده چې د (الم السجدة) په دویمه رکوع کې ﴿لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ﴾ راغلي دي، یعنې څرنګه چې ډېرې ډلې له پیریانو او له بني آدمانو څخه پخوا له دې نه د دوزخ مستحق ګرځیدلي دي؛ دا بدبختان هم په هغوی کې ګډ دي.

إِنَّهُمْ كَانُوا خَاسِرِينَ

بېشکه دوی وو زیان کاران (په دنیا کې).

تفسیر: الله تعالی له خپل رحمت د ایمان او د سعادت تُخم د هر سړي په زړه کې په فطري ډول سره کرلی دی، هغه هم د دې کمبختانو له لاسه ضایع شوی دی، له دې څخه به زیات نقص او خساره څه وي، چې یو سړی په تجارت کې د ګټې په ځای د خپلې ناپوهۍ، غفلت او حماقت له سببه خپله پنګه او رأس المال هم ضایع او له لاسه وباسي.

وَلِكُلٍّ دَرَجَاتٌ مِّمَّا عَمِلُوا

او هرې فرقې ته (د مؤمنانو او کافرانو) مرتبې دي له (جزاء د) هغو چې کړي یې دي (په دنیا کې).

تفسیر: یعنې د اعمالو د تفاوت لامله چې د جنتیانو په درجاتو کې فرق او توپیر (تفاوت) دی، همدا راز د دوزخیانو په درجاتو کې هم فرق شته.

وَلِيُوَفِّيَهُمْ أَعْمَالَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٩﴾

او (مقرري کړي درجې) لپاره د دې چې پوره به ورکړه شي دوی ته جزاء د عملونو د دوی، حال دا چې پر دوی به ظلم ونه کړ شي (د نېکۍ په کمېدو، او بدۍ په زیاتېدو).

تفسیر: نه د کومې نېکۍ ثواب لږ ورکاوه شي، او نه د کومې بدۍ سزا د هغه له مېچه پورته او نامناسبه ټاکل کیږي.

وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِينَ كَفَرُوا عَلَى النَّارِ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا

او یاده کړه (ای محمده !) هغه ورځ چې وړاندې کړ شي هغه کسان چې کافران شوي دي پر اور (د دوزخ باندې، او وبه ویلی شي ورته): چې وړي دي تاسې لذائذ نېکۍ خپلې په ژوندون لږ خسیس کې، اونفع اخیستې ده تاسې په هغه سره (په دنیا کې).

تفسیر: د کافرانو په هیڅ یو کار کې د ایمان روح نه وي، یوائې د نېکۍ د یوه قالب او نمونې غوندې یو شي وي، د دې راز فاني نېکۍ اجر هم فاني وي، چې په دې ژوندون کې د مال، شتو، اولاد، حکومت، روغتیا، عزّت، شهرت او نورو په شکل ورکاوه شي، هم هغه یې وفرمایل چې: تاسې د خپلو صوري نېکیو مزې په دنیا کې اخیستې دي، او په هغه ځای کې یې له لذاتو څخه متمتع شوي یئ، هغه عیش او آرام چې د ایمان راوړلو په تقدیر تاسو ته په آخرت کې رسېده، ګواکې د هغه په ځای مو په دنیا کې مزې وکړې، اوس دلته تاسو په عیش او مزو کې هیڅ برخه نه لرئ.

فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَفْسُقُونَ ﴿٢٠﴾

پس نن ورځ به جزاء درکوله شي تاسې ته د عذاب سپکوونکي په سبب د هغې چې وئ به تاسو (په دنیا کې) چې تکبّر لوېي به مو کوله په ځمکه کې په ناحقه سره، او په سبب د هغې چې وئ تاسو چې نافرماني به مو کوله (په دنیا کې).

تفسیر: یعنې نن تاسې ته د دروغو لافو او غاړه غړولو په سزا کې ذلیل او رُسوا کوونکی عذاب درکاوه کیږي، همدا یو شی تاسې لره دلته پاتې دی، وروسته له دې نه د ځینو زورورو او متکبّرو اقوامو احوال فرمایي، چې پخوا له آخرته د هغوی انجام څرنګه شوی دی.

وَاذْكُرْ أَخَا عَادٍ إِذْ أَنْذَرَ قَوْمَهُ بِالْأَحْقَافِ

او یاد کړه (ای محمده ! دغو منکرانو ته قصه) د ورور د عاد (هود) کله چې وویراوه ده قوم خپل په (ریګستان چې نوم یې) احقاف دی (له عذابه).

تفسیر: یعنې د هود علیه السلام چې د «عادیانو» قومي ورور وو؛ قصه دغو معاندانو ته وکړه، کله چې وېراوه ده قوم خپل له عذابه.

د «أرض القرآن» مؤلف تر «بلاد الأحقاف» لاندې لیکي: د یمامې، عمان، بحرین، حضرموت، او د مغربي یمن تر منځ هغه لویه صحراء چې د (الدّهناء) یا (ربع الخالي) په نامه پرته ده، اګر که هغه د ودانۍ وړ (لایق) نه ده، خو د هغه په شاوخوا کې چېرې لږې ډېرې ځمکې د ودانۍ وړ (لایق) شته، په تېره بیا په هغې برخې کې چې له حضرموت څخه تر نجران پورې پرتې دي، ګواکې اوس هم هغه نه ده ودانه، خو په پخوانیو وختو کې د همدې نجران او حضرموت تر منځ د «عادارم» نومیالي قبیله ودانه وه، چې د الله تعالی د نافرمانۍ په سبب پناه شوه.

وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖٓ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۲۱﴾

او په تحقيق تېر شوي وو (نور) ويروونکي (انبياء) وړاندې له دغه (هوده) او وروسته له ده څخه (په دې سره) چې عبادت بندګي مه کوئ د هيڅا بې له الله، بېشکه زه ويرېږم پر تاسې باندې له عذابه د ورځې لويې (د قيامت نه).

تفسير: يعنې له هود عليه السلام څخه وړاندې او وروسته ډېر ويروونکي انبياء راغلي دي، ګردو به هغه ويل چې هود عليه السلام ويل، يعنې د يوه الله بندګي کوئ !، او د کفر او د معصيت له بد انجام څخه وويرېږئ !، ممکن دی چې د عاد په قوم کې به هم برسېره له هود عليه السلام نور ويروونکي هم راغلي وي، والله سبحانه وتعالى أعلم.

قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا لِتَاْفِكَنَا عَنْ اٰلِهَتِنَا ۚ فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۲۲﴾

وويل (هود ته قوم يې) آيا راغلى يې ته مونږ ته چې وګرځوې مونږ له معبودانو خپلو، پس راوړه مونږ ته هغه (عذاب) چې وعده يې کوې له مونږ سره که چېرې يې ته له رښتيا ويونکيو څخه.

تفسير: يعنې مونږ د خپل آبائي طريقې څخه بېرته ګرځېدونکي نه يو، که ستا دا ويرول رښتيا وي؛ نو ولې په کې ځنډ کيږي؟ هغه چې په ژبه سره يې وايي؛ ښايي چې په کولو يې هم رانښکاره کړې.

قَالَ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۫ وَاُبَلِّغُكُمْ مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖ وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿۲۳﴾

وويل (هود قوم خپل ته) بېشکه همدا خبره ده چې علم په (راتلو د عذاب په) نزد د الله دی، او رسوم زه تاسې ته هغه څه (احکام) چې پرې رالېږلى شوی يم زه په هغو سره، وليکن زه وينم تاسې يو قوم جاهل ناپوه (ځکه چې په زوره خپل ځان ته عذاب غواړئ).

تفسير: يعنې داسې غوښتنه او مطالبه ستاسو ناپوهي او جهالت دی، زه د الله رسول يم، هغه پيغام چې ځما په وسيله لېږلى شوی دی زه هغه دررسوم، زيات له هغه څخه نه علم لرم، او نه د اختيار خاوند يم، او علم له الله تعالى سره دی، چې منکران کله د دنيوي سزا مستوجب کيږي؟ او تر کله هغوی ته مهلت ورکوي؟.

فَلَمَّا رَاَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ اَوْدِيَتِهِمْ ۙ قَالُوْا هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ؕ

پس کله چې وليد دوی (هغه عذاب په شکل د) يوې پلنې ورېځې مخ کوونکې کندو کښتو (فصلونو) د دوی ته؛ نو وويل دوی: دا يوه پلنه ورېځ ده باران وروونکې پر مونږ باندې.

تفسير: يعنې له مخامخ خوا څخه يو ورېځ په پورته کېدلو سره ښکاره شوه، خلقو وګڼل چې د دې ورېځې له ورېدو څخه به ګردې دري او خوړونه وبهيږي، او د ځمکې مخ به له اوبو څخه نه ښکاري، نو ويې ويل چې: ډېره وروونکې ورېځ پورته شوه، اوس به ډېره ښه ووريږي، او ځمونږ کار به پرې جوړيږي، ځکه چې په هغه وخت کې د يوې اوږدې وچکالى او سوکړې له سببه خلق ډېر پرېشان او له قحط په تکليف وو، او اوبو ته يې ډېر ضرورت درلود.

بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ ۭ رِيْحٌ فِيْهَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۴﴾

(نو وويل هود: نه ده دا ورېځ) بلکه دا هغه عذاب دی چې تلوار به مو کاوه تاسو په هغه، يو باد دی چې په ده کې عذاب دی دردناک.

تفسير: يعني دا اوروونكي وربځ نه ده، بلكه د الله تعالى د عذاب طوفان دى، چې د هغه ژر راتللو ته تاسې سترګې په لاره ولاړ وئ، او په دغه وربځ کې دغسې يو سخت او تند باد دى.

تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍۭ بِأَمْرِ رَبِّهَا فَأَصْبَحُوا لَا يُرَىٰٓ إِلَّا مَسَٰكِنُهُمْ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِينَ ﴿٢٥﴾

چې هلاکوي (او له ببخه راوکاږي) هر څيز په امر حکم د رب خپل، بيا صباح ته پاتې شول داسې چې نه به ليدل شو مګر کورونه (خالي) د هغوى، همداسې (لکه چې مو جزاء ورکړه عاديانو ته) جزاء ورکوو مونږ قوم ګناهګارانو ته (چې کوي جرمونه په شان د هغوى).

تفسير: اوه شپې او اته ورځې پرله پسې داسې غضبناک طوفان راوالوت، چې د هغه په مخ کې ونې، سړي او څاروي لکه خځلې ښکاريده، او هر شى به يې له بنسټه (ببخه) ايستل، او چارچاپېر پرته (علاوه) له خرابې او ورانې څخه بل شى نه ښکاريده، په پاى کې پرته له نړېدليو کنډوالو څخه بل هيڅ څيز په سترګو نه راتله، ومو ليدل چې د الله تعالى د مجرمانو دا حال دى، ښايي د دې پېښو له اورېدلو څخه په هوش راشئ، که نه ستاسې احوال به همداسې شي.

وَلَقَدْ مَكَّنَّٰهُمْ فِيمَآ إِن مَّكَّنَّٰكُمْ فِيهِ

او خامخا په تحقيق قوّت قدرت ورکړى وو مونږ دوى ته په هغو څيزونو کې چې قوّت قدرت مو نه دى درکړى تاسې ته (اى قريشو !) په هغه کې.

تفسير: يعني هغه مال، اولاد، کور، کهول او جسماني طاقت چې هغوى ته ورکړى شوي وو؛ تاسې ته نه دي درکړى شوي، کله چې د الله تعالى له جانبه عذاب راغى؛ هيڅ يو شى د هغوى په کار ورنغى، بيا نو تاسې په کومه خبره مغرور يئ؟.

وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَأَبْصَٰرًا وَأَفْـِٔدَةً فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ أَبْصَٰرُهُمْ وَلَآ أَفْـِٔدَتُهُم مِّن شَيْءٍ

او ګرځولي دي مونږ هغوى ته غوږونه (سماعت) او سترګې (بصارت) او زړونه (بصيرت)، بيا دفع نه کړه له دوى نه غوږونو (سماعت) د دوى، او نه سترګو (بصارت) د دوى، او نه زړونو (بصيرت) د دوى هيڅ قدر (له عذاب څخه).

تفسير: يعني د نصيحت اورېدلو ته يې غوږونه او د قدرت د دلائلو ته يې سترګې او پوهېدلو سنجولو ته يې زړونه هغوى ته ورکړي وو، خو يو له هغوى څخه د دوى په کار ورنغى، ړانده، کانه او ليونيان شول، د پيغمبرانو په مخکښې ودرېدل، تر څو چې سره د لرلو د دې ګردو قوّتونو د الله تعالى عذاب هغوى راچاپېر کړل، او هيڅ يو دنني او باندنې قوّت هغه ونشو ګرځولى.

إِذْ كَانُوا يَجْحَدُونَ بِـَٔايَٰتِ اللَّهِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٢٦﴾

له دې جهته وو دوى چې انکار به يې کاوه په دلائلو د الله، او نازل شو په هغوى هغه (عذاب) چې وو دوى چې په هغه پورې به يې مسخرې تو کې کولې.

تفسير: يعنې په هغه عذاب باندې چې هغوی خندا کوله او ملنډې يې پرې وهلې؛ اخته شول.

وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ مِّنَ الْقُرٰى

او خامخا په تحقيق هلاک کړي دي مونږ هغه چې چاپير له تاسې ځخه دي له (اهل د) کليو ځنې.

تفسير: يعنې پرته د «عاد» له قومه د ثمود د قوم، د لوط د قوم او د نورو کلي همدا راز وران شوي دي، چې ستاسې په شاوخوا کې پراته وو، دا خطاب مکيّانو ته ځکه شوی دی چې هغوی د خپل تګ او راتګ په وخت کې هغه ځايونه پخپلو سترګو سره وينې.

وَصَرَّفْنَا الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۷﴾

او مکرر مو بيان کړي دي دلائل لپاره د دې چې دوی بېرته راوګرځي (له کفر نه).

تفسير: مګر سره له دومره پوهولو بيا هم هغوی له هغو چارو ځخه مخ ونه ګرځاوه.

فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً ؕ

پس ولې مدد مرسته ونه کړه له دوی سره هغو (بُتانو) چې نيولي وو دوی (هغه بُتان) بې له الله لپاره د نژدېوالي (الله ته په زعم خپل) نور معبودان.

تفسير: يعنې د هغو بُتانو په نسبت به يې ويل چې: مونږ د هغوی عباد ت ځکه کوو، تر څو هغوی مونږ الله ته نژدې کړي، او لويې درجې راوښيي، نو هغه بُتان د دې اړې (حاجت) په وخت کې ولې د هغوی په کار ورنغلل.

بَلْ ضَلُّوْا عَنْهُمْ ۚ

بلکه ورک شول (بُتان په وخت د عذاب کې) له دوی ځخه.

تفسير: يعنې نن ورځ د هغوی هيڅېرې پته نشته، چې د عذاب په وخت کې هغوی ته غږ وکړي، آخر هغوی چېرته تللي دي؟ چې د داسې مصيبت په وخت کې هم په کار نه ورځي.

وَذٰلِكَ اِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۸﴾

او دا (نيول د بُتانو) دروغ د دوی وو، او هغه چې وو دوی چې له خپل ځانه به يې جوړول (پر الله).

تفسير: يعنې درښکاره شوه چې بُتانو ته الله ويل، او هغو ته هيلې لرل، او په زړه پورې خبرې له هغوی ځخه غوښتل؛ ګردې چټې (بېکاره) او اپلټې خبرې وې، او لکه د لرګيو پښې د درېدلو وړ (لايق) نه وې.

(ربط) په ړومبنيو آيتونو کې د انسانانو د تمرّد او سر غړولو خبرې وې، وروسته له دې نه د پيريانو د اطاعت او غاړه ايښودلو خبرې راځي، تر څو له هغه ځخه راښکاره شي هغه قوم چې په طبيعي ډول سره سخت متمرّد او سرکښ دی، له هغو ځينې افرادو څرنګه د الله تعالى خبرې اوربدلې دي؟ او د هغه په مقابل کې لکه موم غوندې پاسته شوي دي، او غاړه يې کېښودلې؟.

وَإِذْ صَرَفْنَآ إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ ۖ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓا أَنصِتُوا ۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾

او یاد کړه (هغه وخت ای محمده !) کله چې وګرځول مونږ تاته یو ټولی له پیریانو څخه چې غوږ به یې ایښود قرآن ته، پس کله چې حاضر شول (دوی قرآن ته)؛ وویل دوی په منځ خپل کې: چپ شئ تاسې ای پیریانو، بیا کله چې تمام شو (د قرآن تلاوت) بېرته وګرځېدل قوم خپل ته ویروونکي (له عذابه).

تفسیر: له محمدي بعثت څخه پخوا ځینو پیریانو ته لږ څه اسماني خبرې راښکارېدې، کله چې ځمونږ په پیغمبر باندې د وحي راتلل شروع شو؛ دا سلسله تقریبًا بنده شوه، او په ډېر کثرت د شهاب سره ویشتل شروع شو، پیریانو ته دا خیال ولوېد چې هرومرو کومه خبره پېښه شوې ده، چې د هغې په وسیله اسماني پېښې کلکی ساتلې او سختې پیرې پرې درېدلې دي، د دې خبرې د پلټنې لپاره پیریان څو څو لویې ډلې په مشرق او مغرب کې سره خواره شول، له دوی څخه یوه ډله (بطن نخله) ته ورسېده، چې اتفاقًا هلته ځمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره له څو تنو اصحابو د سهار لمونځ اداء فرمایه، الله تعالی د پیریانو د دې ډلې فکر د محمد صلی الله علیه وسلم د قرآن لوستلو په لوري وګرځاوه، د قرآنکریم غږ د هغوی په غوږونو کې ډېر عجیبه غریبه مؤثر او زړه وړونکی اثر او اغېزه وکړه، او د هغه عظمت، هیبت او لوینې د هغوی په زړونو کې ولوېدې، او پخپلو منځونو کې یې سره وویل: «چپ شئ ! او د زړونو له کومې څخه یې واورئ !»، تر دې چې پاک قرآن دهغوی زړونه په خپل لوري ورکش کړل، او په دې خبره باندې یې باور وشو چې همدا هغه نوې خبره ده، چې د هغې په سبب پیریان له اسمانه شړل کیږي، کله چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د قرآن له لوستلو څخه فارغ شو، د پیریانو ډلې پخپلو زړونو کې د ایمان او ایقان سوغات نیولی د خپلو ټبرو په لوري رهي شوه، او دا ګردې خبرې یې هغوی ته وویلې، او لازمه ښوونې یې هغوی ته وکړې، چې مفصّلې خبرې یې د (جن) په سورت کې راځي.

قَالُوا يَا قَوْمَنَآ إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنزِلَ مِن بَعْدِ مُوسَىٰ

وویل دوی: ای قومه ځمونږ ! بېشکه مونږ واموورېده داسې یو کتاب چې نازل کړی شوی دی وروسته له موسی.

تفسیر: په پخوانیو کتابونو کې د موسی علیه السلام کتاب «تورات» غوندې بل کتاب، احکام، او شرائع لرونکي نه وو، چې د بني اسرائیلو ګردو انبیاوو په هم هغه باندې عمل کاوه.

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ

په دې حال کې چې تصدیق کوونکی موافق دی له هغو (کتابونو) سره چې پخوا له دې نه وو.

تفسیر: ښایي په هغه وخت کې د پاک قرآن هغه برخه چې رسول أکرم صلی الله علیه وسلم لوستله؛ همداسې مضمون لرونکې وه، یا به له قرینو څخه پوهیدلې وي.

يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٠﴾

لاره ښیي حق دین ته او لارې سمې ته.

تفسیر: یعني رښتینې عقیده او د عمل سمه لاره.

يٰقَوْمَنَآ اَجِيْبُوْا دَاعِيَ اللّٰهِ وَاٰمِنُوْا بِهٖ

ای قومه څمونږ ! قبول کړئ قول د بلونکي د الله، او ایمان راوړئ په ده باندې.

تفسیر: یعنې د هغه خبره ومنئ !، چې د الله تعالی په لوري مو بولي، او د هغه په رسالت باندې یقین ولرئ !.

يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ

چې مغفرت کړي (الله) تاسې ته ځکاهونه ستاسې.

تفسیر: یعنې هغه ځکاهونه چې د کفر په حالت کې مو کړي دي، اوس د اسلام له برکته هغه ځکرد درمعافیږي، او پس له دې نه به بل دفتر شروع کیږي، خو په یاد یې ولرئ چې دلته د (حقّ الله) ځکاهونو ذکر دی، او د حقوق العباد معافي له دې څخه څه نه ښکاري.

وَيُجِرْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۳۱﴾ وَمَنْ لَّا يُجِبْ دَاعِيَ اللّٰهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْاَرْضِ وَلَيْسَ لَهٗ مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءُ ؕ

او خلاص به کړي (الله) تاسې له عذاب دردناک څخه. او هغه څوک چې ونه مني (بلنه د بلونکي د الله؛ پس نه به وي عاجز کوونکی (د الله په تېښته سره) په ځمکه کې، او نه به وي ده ته بې له هغه (الله) څخه دوستان مددګاران.

تفسیر: یعنې نه دوی پخپله په تښتېدلو سره د الله تعالی له ویشتلو څخه ځان ژغورلی (بچ کولی) شي، او نه یې بل څوک ژغورلی (بچ کولی) شي.

اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۲﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ

دغه کسان په ځکمراهي ښکاره کې دي. آیا نه وینې فکر نه کوي (منکران د بعث) چې بېشکه الله هغه (ذات) دی چې پیدا کړي یې دي اسمانونه او ځمکه حال دا چې نه دی ستړی شوی په پیدا کولو د هغوی کې.

تفسیر: په دې لفظ کې د یهودانو د عقیدې تردید دی، چې ویل به یې: «الله تعالی په شپږو ورځو کې ځمکه او اسمان پیدا کړل، او په اوومه ورځ کې یې هوسایي (آرام) وفرمایله» العیاذ بالله.

آیا نه دی الله:

بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يُّحْيِۦَ الْمَوْتٰى ؕ بَلٰٓى اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۳۳﴾

قادر په دې باندې چې ژوندي کړي مړي؟ بلکه قادر دی، بېشکه دغه (الله) پر هر څیز باندې ښه قادر دی (چې ځینې یې بعث بعد الموت دی)

تفسیر: یعنې لوی عذاب به وروسته له مړ کېدلو څخه وي، تاسو په دې چرت کې مه اوسئ چې وروسته له مړینې څخه بیا ژوندون چېرې دی؟ الله جل جلاله ته دا کوم ګران کار نه دی، د ځمکې او د اسمان په پیدا کولو کې هیڅ ستړی شوی نه دی، نو آیا ستاسې دا دویم ځلي پیدا کول کوم مشکل کار دی؟ بلکه ډېر ورته آسان دی.

وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِينَ كَفَرُوا عَلَى النَّارِ أَلَيْسَ هَٰذَا بِالْحَقِّ ۖ قَالُوا بَلَىٰ وَرَبِّنَا ۚ

او یاده کړه هغه ورځ چې وړاندې به کړل شي هغه کسان چې کافران شوي دي په اور باندې (وبه ویل شي دوی ته) آیا نه وو دغه (عذاب) حق رښتیا؟ نو وبه وایي دوی چې: هو ! حق او رښتیا ده قسم دی ځمونږ په رب ځمونږ.

تفسیر: یعنې په هغه وخت کې به ویل کیږي چې: آیا دوزخ شته او د هغه عذاب رښتیا دی؟ په پای کې به ګرد خړ او ذلیل کیږي، او داسې اقرار به وکړي چې بېشکه واقعي دی، او مونږ په غلطه سره له هغه څخه انکار کاوه.

قَالَ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٤﴾ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَهُمْ ۚ

فرمایي: نو وځکئ تاسې عذاب په سبب د هغه چې وئ تاسې چې کافران کېدلی. نو صبر کوه ته لکه چې صبر کړی وو خاوندانو د عزم ټینګ ودرېدلو (په حق) له رسولانو، او تلوار مه کوه (په غوښتلو د عذاب) دوی ته.

تفسیر: یعنې کله چې ښکاره شوه چې د منکرانو سزا ورکول په دنیا کې وي یا په آخرت کې، یو ضروري امر دی؛ تاسې د دوی په معاملو کې تلوار ونه کړئ !، بلکه تر ټاکلې نېټې پورې صبر وفرمایئ، لکه چې نورو اولوالعزمو رسولانو همت لرونکیو او ټینګ ودرېدونکیو پیغمبرانو به صبر کاوه.

تنبیه: ځینو أسلافو ویلي دي چې: ګرد اولوالعزم پیغمبران همت لرونکي وو، خو په عُرف کې پنځه پیغمبرانو ته په خصوصي ډول ویل کیږي: نوح، ابراهیم، موسی، عیسی، محمد رسول الله صلی الله تعالی علیهم و علی آلهم وأصحابهم وسلّم.

كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ ۚ

ګویا دوی په هغه ورځ کې چې ووینې هغه (عذاب) چې وعده یې ورسره کوله شي؛ نه دی ډیل کړی (په دنیا کې) مګر یو ساعت یوه ګړۍ له یوې ورځې څخه.

تفسیر: یعنې په دنیا کې هیڅ ډیل او تأخیر په کې نه دی شوی، یعنې اوس خو ډیل او تأخیر درښکاري، او درګرده وایي چې: ولې هغه عذاب ژر نه رارسیږي، خو په هغې ورځې کې به وپوهېږي چې هغه عذاب ډېر ګرانې راغلی دی، او په دنیا کې هغوی فقط یوه ګړۍ ژوندون کړی دی، یا به د قبر د هستوګنې موده ورته یوه ګړۍ معلومیږي، دا یوه عمومي قاعده ده چې تېره شوې موده ډېره لږه ښکاري، په تېره بیا د سختۍ او مصیبت په وخت کې د عیش آرامۍ ډېره موده خورا لږه په نظر ښکاري.

بَلَاغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٣٥﴾

دغه (قرآن) پند رسونه ده، نو آیا هلاک به کړ شي (بلکه نه هلاک کیږي) مګر قوم فاسقان سر غړوونکي (له احکامو د الله).

تفسیر: یعنې مونږ د نصیحت خبرې تاسې ته دررسولي، او د ښو او بدو لارې مو درښوولې دي، اوس هر هغه چې دا پند نه اوري؛ هم هغه تباه او پناه کیږي، ځمونږ له خوا د حجّت اتمام شوی دی، مونږ هیڅوک بې قصوره نه نیسو، هم هغه سړي خرابوو چې په خرابۍ پسې یې ملاوې تړلي وي.

تمت سورة الأحقاف، ولله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ مُحَمَّدٍ

«د (محمّد) صلی الله علیه وسلم سورت مدني دی، پرته له (۱۳) آیته چې د هجرت په لاره کې نازل شوی دی، (۳۸) آیته (۴) رکوع لري، په تلاوت کې (۴۷) او په نزول کې (۹۵) سورت دی، وروسته د (الحدید) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

هغه کسان چې کافران شوي دي او منع کړي یې دي (خلق یا منع یې راوړې ده) له لارې د الله (اسلام) نه.

تفسیر: لکه چې د کفّارو د مشرانو دا عادت وو، چې په ځان، مال، او اولاد او نورو شیانو سره یې په دې لارې کې کوښښ کاوه.

اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ①

خراب (ابته) کړي دي (الله نېک) عملونه ددوی.

تفسیر: یعنې هغه چارې چې دوی ښې ګڼلي دي، د ایمان د نه لرلو په سبب هغه نه منلي کیږي، بلکه له هغو څخه ځینې چارې د عتاب موجب ګرځي، لکه د اسلام د نه خوښدلو په لاره کې د پیسو لګول.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ ②

او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی، او کړي یې دي ښه (کارونه)، او ایمان یې راوړی دی په هغه (قرآن) چې نازل کړی شوی دی پر محمد، او هغه حق (دین) دی له (نزده د) رب د دوی، وبه رژوي له دوی څخه (الله) ګناهونه د دوی، او ښه به کړي (الله) حال د دوی.

تفسیر: یعنې خراب عادتونه به الله جل جلاله له هغو څخه لري، او د هغوی احوال به ښه کړي، چې ورځ په ورځ په ښه والي کې پرمختګ کوي، او په آخرت کې د هغوی له ګناهونو څخه تیریږي، او ښه ورځ ورکوي.

ذٰلِكَ بِاَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوا اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ وَاَنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّبَعُوا الْحَقَّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۭ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ اَمْثَالَهُمْ ③

دغه (د کفّارو د ښو اعمالو تخریب او د مسلمانانو د بدیو مغفرت) په سبب د دې دی چې بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي، متابعت یې کړی دی د باطل (د شیطان)، او بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی، متابعت یې کړی دی د حق (قرآن) له جانبه د رب د دوی، همداسې (په مثل د دې بیان) بیانوي الله خلقو ته مثالونه (احوال) د دوی.

تفسير: يعنې الله تعالى خلقو ته داسې ښه ښکاره د هغوی د ښو او بدو احوال ورښوولی او په ګردو خبرو باندې يې پوه کړي دي، تر څو د باطلو خوښولو نحوست او شامت او د حق منلو برکت او کرامت د هغوی په زړونو کې په ښه ډول سره کيني.

هر کله چې الله تعالى حقوالی د مؤمن او باطلوالی د کافرو بيان کړ، اوس د کافرو بيان دی، يعنې چې داسې ورسره مناسب دي لکه چې فرمايي:

فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّىٰ إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً

نو کله چې مخامخ شوئ (په جنګ کې) له (هغو کسانو) سره چې کافران شوي دي؛ نو ووهئ وهل د ورمېږونو (د هغو)، تر هغه پورې چې ښه ډېر مو ووژل دوی، او پرې غالب شوئ؛ نو (وترئ دوی) بيا سخت محکم کړئ ترڼ (د دوی چې در څخه خلاص نه شي)، پس بيا يا احسان ورسره وکړئ احسان کول وروسته (له بندي کولو او ترلو يې)، او يا تاسې فديه کړئ دوی فديه کول (په عوض يې مال واخلئ، يا مسلمانان بنديان راخلاص کړي).

تفسير: يعنې د حق او باطل مقابله تل وي، کله چې د مسلمانانو او کافرانو په منځ کې جنګ شروع شي؛ نو مسلمانانو ته ښايي چې په هغه کې په ډېره مېړانه او بهادری سره توره وکړي، د باطل زور هلته ماتېږي چې خورا شرير سړی ووژلی شي، او د هغوی ډلې ورماتې شي، نو ځکه د جنګ او جګړې په ډګر کې لټي، بې زړه توب، وېره، توقف، تردّد او تېښته خورا بد کار دی، پر مسلمانانو باندې لازم او ضرور دي، چې د الله تعالى د دښمنانو په ورمېږونو وهلو کې بېړه (تلوار) وکړي، او د دوی د وينې تويولو څخه وروسته کله چې د هغوی قوّت دبدبه ماته شي، او زور يې پاتې نشي؛ نو د هغوی بندي ساتل هم کافي دي، د (۱۰ جزء د الأنفال سورت په (۹) رکوع (۶۷) آيت) کې مونږ داسې يو آيت لولو: ﴿مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ﴾ دا قيد او بند ممکن دی چې د هغوی لپاره يو لوی عبرت او ويښتوب شي، او دوی ته د مسلمانانو له دې نژدې والي څخه داسې يوه ګټه په لاس ورشي چې په خپل او د مسلمانانو په حال او احوال باندې په ښه شان ځانونه پوه کړي، او پخپل وړاندې او وروسته باندې فکر ووهي، او ورو ورو هغوی د حق او صداقت لاره غوره او له اسلامي تعليماتو څخه ګټور شي.

بيا که مو مصلحت وشي؛ نو بې له کومې معاوضې د احسان په ډول هغه خوشې کړئ !، په دې ډول ښايي چې ډېر افراد ځمونږ له دې ښو اخلاقو څخه متأثر شي، او ځمونږ د اسلام په لوري راغب وګرځي، او ځمونږ له دين سره مينه او محبت پيدا کړي، داسې هم کولی شئ چې نغدې فديې ورځنې واخلئ، يا يې د مسلمانانو له بنديانو سره مبادله کړئ، په دې دوو هر يوې کې ډېرې ګټې او راز راز فائده شته، لنډه يې دا که دا د جنګ کافر بنديان د هغوی د وطن او هيواد په لوري لېږئ دوه صورتونه لري:

(۱): په معاوضه باندې خوشې کول.

(۲): بې له معاوضې پرېښودل، په دې دواړو کې هر يو چې اسلامي ټولواک (باچا) ته ښه ښکاريږي، او اصلح وي؛ هم هغه دې غوره او اختيار کړي.

حَتَّىٰ تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا

(جنګ ورسره کوئ) تر هغه پورې چې کيږدي (جنګيالیان د) جنګ وسلې خپلې.

تفسير: يعنې د دې حرب، ضرب، قيد او بند سلسله به تر هغه پورې جاري وي، تر څو چې خپله وسله کيږدي، او جګړه بنده شي.

ذٰلِكَ وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ وَلٰكِنْ لِّيَبْلُوَا بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ

دغه (حکم د الله په دوی کې) دی، او که اراده فرمایلي وی الله (د بدل اخیستلو)؛ نو خامخا به بدل اخیستی وو الله له دوی څخه (بې له جنګه)، ولیکن (امر یې درته وکړ په جهاد له دوی سره)، لپاره د دې چې ازموینه وکړي الله د ځینو ستاسو په ځینو نورو (په جنګ کې).

تفسیر: یعنې الله قُدرت لري چې پر دې کافرانو باندې کوم اسماني عذاب نازل کړي، او لکه عاد او ثمود غوندې دوی هم هلاک کړي، خو د جهاد او قتال له مشروعیت څخه د بندګانو امتحان مقصود دی، او الله دوی ازمویي چې څوک د الله تعالی په پاک نامه باندې خپل نوم، نښان، ځان، مال، اولاد او نور شیان جاروي، او د کفارو په مخکښې څومره مسلمانان له تنبیهي کاروائیو څخه ویښیږي؟ او څومره کسان له دې مهلت څخه فائده اخلي، چې الله تعالی هغوی ته ورکړی دی، او هغوی لکه پخواني قومونه یوځلي په سزا نه رسوي، او نه یې استیصال کوي.

وَالَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَنْ يُّضِلَّ اَعْمَالَهُمْ ۝ سَيَهْدِيْهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ۝

او هغه کسان چې وژلی شوي دي په لاره د الله کې؛ پس له سره به ضایع نه کړي (الله) عملونه د دوی. ژر به سمه لاره وښیي دوی ته (الله په دنیا او په آخرت کې)، او ښه به کړي حال د دوی (په دارینو کې).

تفسیر: یعنې هغه کسان چې د الله جل جلاله په لاره کې شهیدان کیږي، اګر که په ښکاره ډول سره دوی پاتې او ناکام په نظر راځي؛ خو په ریښتیا سره هغوی بریالیان (کامیاب) دي، الله تعالی د هغوی چارې نه ضایع کوي، بلکه د کار په پای کې د هغوی هغه ربړونه ګټور کیږي، او دوی ته د جنّت په لوري لاره ورکوي، او د آخرت په ګردو منازلو او مواقعو او مواقفو کې د هغه حال ښه کوي.

وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ۝

او داخل به کړي (الله) دوی په جنّت کې چې معلوم کړی دی (الله) دغه (جنّت) دوی ته.

تفسیر: یعنې په هغه جنّت کې داخلیږي چې د هغه احوال دوی ته د انبیاء علیهم السلام په ژبه ورښکاره شوي دي، وروسته له دې چې هلته ورسیږي، هر جنّتي د خپلې هستوګنې ځای پخپله پېژني، او د هغه د زړه کشش به په هم هغه لوري وي چې د هغه دهستوګنې لپاره تاکلی شوی دی.

تنبیه: ابن عبّاس رضي الله تعالی عنهما د ﴿عَرَّفَهَا لَهُمْ﴾ معنی (طیّبها لهم) اخیستې ده، یعنې جنّت هغوی ته هسې خوشبویی ورشیندي چې د هغه د هغو ښو وږمو په وسیله به پېژندګلوي دوی ته آسانیږي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ۝

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) که مدد ګاري وکړئ تاسې له (دین د الله، او رسول د) الله سره؛ نو مدد به وکړي (الله) له تاسې سره (په غلبه پر دښمن)، او ثابت به کړي قدمونه ستاسې (په ځای د جنګ).

تفسیر: یعنې په جهاد کې به د الله جل جلاله په مرسته ستاسې قدمونه ټینګ پاتې کیږي، او د اسلام په اطاعت کې به ثابت قدم اوسیږئ، چې د هغه په نتیجه کې به مو په «صراط» کې ثابت قدمي په برخه شي.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَتَعْسًا لَّهُمْ وَاَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ﴿۸﴾

او هغه کسان چې کافران شوي دي؛ پس هلاکوالی شرمول دي دوی ته (له الله)، او عبث خراب به کړي (الله خامخا نېک) عملونه د هغوی.

تفسیر: یعنې هسې چې د مسلمانانو قدمونه ټینګوي؛ پرته له هغه د کفّارو په پښو کې رېږدېدل او په زړونو کې یې وېره غورځوي، او هسې چې مسلمانانو ته د الله تعالی له لوري مرستې رسیږي، د کافرانو کارونه خراب او ابته کیږي.

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَرِهُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ﴿۹﴾

دغه (هلاکوالی، او د دوی د اعمالو تخریب) په سبب د دې دی چې بېشکه هغوی بد ګڼلی دی هغه (قرآن) چې نازل کړی دی الله (پر محمد باندې)؛ پس الله عبث کړل (نېک) عملونه د دوی.

تفسیر: یعنې کله چې هغوی د الله جلّ جلالُه خبرې نه اوري؛ نو الله تعالی به څرنګه د هغوی کارونه خوښوي، او هغه څیز چې د الله تعالی په دربار کې نامنلی وي؛ هغه به خوشې چتې او بېکاره څیز وي.

اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ دَمَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ۫ وَلِلْكٰفِرِيْنَ اَمْثَالُهَا ﴿۱۰﴾

آیا پس نه ګرځي دوی په ځمکه کې پس چې وګوري دوی (په نظر د عبرت سره) چې څرنګه وو عاقبت آخره خاتمه د هغو کسانو چې پخوا له دوی څخه وو، هلاکت راوست الله په دوی باندې ، او شته لپاره د کافرانو مثالونه (حالونه د هلاکت د پخوانیو کفارو).

تفسیر: یعنې په همدې دنیا کې وګورئ چې منکرانو ته څه پېښېږي؟ او د هغوی ګرد تدبیرونه څنګه په ځمکه لویږي؟ آیا په دې ورځو کې به هغوی لره داسې سزاوې نه ورکولی کیږي؟.

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاَنَّ الْكٰفِرِيْنَ لَا مَوْلٰى لَهُمْ ﴿۱۱﴾

دغه (نصرت د مؤمنانو، اهلاک د کافرانو په سبب د دې دی چې) بېشکه الله دوست مددګار د هغو (کسانو) دی چې ایمان یې راوړی دی، او بېشکه چې کافران نشته (هیڅ) دوست مددګاران دوی لره.

تفسیر: یعنې الله تعالی د مؤمنانو او صالحانو رفیق دی، چې په ټاکلي وخت کې له هغوی سره مرستې کوي، د کافرانو هسې ملګری به څوک وي چې د الله تعالی په مخکښې ودریږي.

اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَتَمَتَّعُوْنَ وَيَاْكُلُوْنَ كَمَا تَاْكُلُ الْاَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ﴿۱۲﴾

بېشکه الله داخل به کړي هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی، او کړي یې دي ښه (عملونه) په جنتونو کې بهیږي به له لاندې (د ونو او مانیو د هغو څلور قسمه) ویالې، او هغه کسان چې کافران شوي دي؛ (لږ) نفع اخلي (په دنیا کې)، او خوراک به کوي لکه چې خوراک کوي چارپایان، او اور (د دوزخ) ځای د ورتلو (او کور د اوسېدودی) دوی لره.

تفسير: يعنې د دنيا سامان غونډوي او له ډېر حرص څخه لکه بهائم غوندې ګرځي، خوري او مزې کوي، او د خپلو اعمالو له نتائجو څخه نه دي خبر چې د دوی د خوړلو او څښلو پای به څه کيږي؟ ښه دې دلته په دنيا کې څو ورځې مزې او چړچې کوي، په آخرت کې دوی ته د اور کور تيار دی.

وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ هِيَ أَشَدُّ قُوَّةً مِّن قَرْيَتِكَ الَّتِي أَخْرَجَتْكَ أَهْلَكْنَاهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ﴿١٣﴾

او ډېر له (اهل د) کليو نه چې هغوی به ډېر سخت محکم وو له جهته د قوّت نه له (اهل د) کلي ستا نه، هغه (کلي) چې يې ترې ايستلی يې ته (ای محمده !؛ اهل د هغې قريې) هلاک مو کړل هغوی، پس نه به وو هيڅوک مدد کوونکی هغوی سره (په دفع د عذاب کې).

تفسير: يعنې هغو قومونو ته چې په زور او قوّت کې د مکې معظمې له خلقو څخه ډېر لوړ (اوچت) وو، سخت هيبادونه او سزاوې يې ورکړي دي، چې د هغوی مرستې ته هيڅوک حاضر نه شول، نو بيا دوی په کومې خبرې دومره مغرور دي؟.

تنبيه: له ﴿قَرْيَتِكَ الَّتِي أَخْرَجَتْكَ﴾ څخه مراد مکّه معظمه ده، چې خلقو يې داسې حرکات وکړه، چې د هغوی په سبب ځمونږ لوی پيغمبر صلی الله عليه وسلم هغه خپل محبوب او مالوف ښار پرېښود.

أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِ كَمَن زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُم ﴿١٤﴾

آيا نو هغه چې وي په ښکاره حجّت (لارې) له (جانبه د) رب خپل نه په شان د هغه دی چې ښايسته کړی شوی دی ده ته ناکاره کار عمل د ده، او متابعت يې کړی وي د خواهشاتو خپلو (بلکه نه دي سره برابر).

تفسير: يعنې هر يو سړی چې په ښکاره دلائلو باندې ولاړ وي، او په بصيرت سره په صافه لار روان وي، دا د هغه چا په شان دی چې بد او ناوړه عمل ورته ښه ښکاري، او د ښو او بدو تميز نه شي کولی، (بلکه برابر نه دي، او د دواړو انجام يو شان نه دی).

مَّثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ۖ فِيهَا أَنْهَارٌ مِّن مَّاءٍ غَيْرِ آسِنٍ

مثل، صفت، بيان د جنّت هغه چې وعده يې کړی شوې ده له پرهېزګارانو سره، په هغه کې ويالې دي له اوبو چې نه به وي بد خوندې (بدلېدونکې په مزه او بوی کې).

تفسير: يعنې له ډېرو ځنډېدلو يا د کوم شي له ګډېدلو څخه د هغوی بوی او وږم نه خرابيږي، له شهدو څخه ډېرې خوږې او له شودو څخه ډېرې سپينې وي، هيڅ ډول تغيير او بدخوندي په کې نه پيښيږي، بلکه تل صافې خوږې وي.

وَأَنْهَارٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ

او ويالې دي له شودو چې نه به وي متغيرې (مزه يې، بلکه صاف او خوندوره ده) مزه د هغو.

تفسير: يعنې نه ښايي چې د هغو قياس د دنيا په شودو باندې وکړ شي، په دې شودو کې سره له تېرېدلو د زيات مدّت څه تغيير او فرق نه پيدا کيږي، بلکه تل به صافې خوږې وي.

وَأَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ۚ

او ويالې دي له شرابو چې مزه ورکوونکي دي (هغه) څښونکيو ته.

تفسير: يعنې د جنّت په شرابو کې به يو صاف لذّت او ښه خوند او مزه وي، نه په کې نشه وي او نه ماتېدل، او نه سر ګرځېدل او نه بل کوم تريخوالی، او نه څه عيب او نقصان په کې ليدل کيږي.

وَأَنْهٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ۖ

او ويالې دي له شاتو (ګبين) صفا کړيو شويو (له خيريو نه).

تفسير: يعنې صاف او شفاف چې تکدّر چېرې حتّى د يوه نري څنګ نښه به هم په کې نه ښکاري.

تنبيه: دلته د څلورو قسمو ويالو ذکر شوی دی، چې په دوی کې اوبه داسې يو څيز دی چې د انسان ژوند په هغوی باندې ټرلی دی، او شودې د لطيفې غـذاء کار ورکوي، شراب د خوښۍ او د نشاط څيز دی، او شهدو ته يې «شفاء للنّاس» فرمايلي دي.

وَلَهُمْ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ

(او شته) دوی ته په دغه (جنّت) کې له هر راز مېوو.

تفسير: له مشروباتو څخه وروسته يې د دې مأکولاتو ذکر وفرمايه.

وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ ۖ كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ وَسُقُوْا

او مغفرت له (طرفه د) رب د دوی، (آيا دغه څښتن د نعمتونو) په شان د هغه دی چې تل دی په اور د دوزخ کې وي، او ورځښولی به شي پرې.

تفسير: يعنې الله تعالى د دوی ګردې خطاوې بښي، او په جنّت کې به يې داخلوي، د جنّت له ننوتلو څخه وروسته به هيڅ کله د خطاوو ذکر نه کيږي، چې د هغوی د خپګان سبب شي، او وروسته له هغه به هم دکومې خطا پوښتنه ترې نه کيږي.

مَآءً حَمِيْمًا فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ ﴿١٥﴾

اوبه ډېرې تودې، پس پرې به کړي (ټوټې ټوټې به کړي دغه اوبه) کولمې د دوی (بلکه دوی سره هيڅکله برابر نه دي).

تفسير: يعنې کله چې ايشېدلې اوبه پر دوزخيانو باندې وځښولی شي؛ نو کولمې به يې پرې کيږي، او د باندې به لويږي، «أعاذنا الله منه».

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ إِلَيْكَ ۚ حَتّٰى إِذَا خَرَجُوْا مِنْ عِنْدِكَ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ أُوْتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ آنِفًا ۗ

او ځينې له دغو (کُفّارو) څخه هغه دي چې غوږ ږدي تاته، تر هغه پورې هر کله چې بهر ووځي دوی له نزده د تا څخه؛ نو وايي هغو کسانو ته چې ورکړی شوی دی ورلره علم څه وويل (محمد) اوس (په دې ساعت کې).

تفسير: پورته د مؤمنانو او د کافرانو حال بيان شو، په دې آيت کې د هغه راز کافرانو حال بيانيږي چې هغه ته منافق وايه شي، يعنې په ښکاره ځان په مسلمانانو کې ګډوي، او په پټه کې له هغه څخه انحراف کوي، يعنې دا خلق په ښکاره ډول د پيغمبر صلى الله عليه وسلم خبرې ته غوږ نيسي، خو په زړه کې ورته توجّه نه کوي، او نه يې په يادوي، او نه پرې پوهيږي، کله چې له مجلس څخه د باندې ووځي؛ نو پوهانو ته وايي چې: دغه سړي محمد صلى رسول الله صلى الله عليه وسلم اوس څه وويل؟ ښايي له دې پوښتنې څخه به د دې خبرې تعريض وي، چې مونږ د هغه خبرې د اعتناء وړ نه بولو، او غوږ ورته نه ږدو، او نه ورته متوجّه کيږو، يا څه حکم يې وفرمايه؟ ځمونږ ورته ښه فکر نه وو، يا خو مونږ پرې هيڅ پوه نشو.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُمْ ﴿١٦﴾

دوى هغه کسان دي چې مهر وهلى دى الله په زړونو د دوى (چې ټينګ په کُفر ولاړ دي)، او متابعت کړى دى د خواهشاتو خپلو (په نفاق کې).

تفسير: يعنې د دې راز نالايقو حرکتونو اثر او اغيزه دا کيږي چې الله تعالى د هغوى په زړونو باندې مهر لګوي، او بيا دوى ته د نېکۍ توفيق هيڅ نه پاتې کيږي، او يواځې پر خپلو غوښتلو پسې درومي او پيروي يې کوي.

وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَآتَاهُمْ تَقْوَاهُمْ ﴿١٧﴾

او هر چه هغه کسان دي چې سمه لاره يې موندلې ده، زيات کړى دى دوى ته (الله يا قرآن) هدايت، بصيرت، او ورکړې ده (الله) دوى ته پرهېزګاري د دوى.

تفسير: يعنې د هدايت د لارې د تګ اثر او اغيزه دا کيږي چې سړى ورځ په ورځ په هدايت کې ترقي او پرمختګ کوي، او د هغه پوهه، هوش، عقل، پرهېزګاري او اتّقاء او ايمان زياتيږي.

فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا السَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً ۖ فَقَدْ جَاءَ أَشْرَاطُهَا ۚ فَأَنَّىٰ لَهُمْ إِذَا جَاءَتْهُمْ ذِكْرَاهُمْ ﴿١٨﴾

پس انتظار نه کوي دوى مګر د قيامت چې رابه شي دوى ته ناڅاپه، نو په تحقيق راغلې دي علامې نښې د هغه (قيامت)، پس بيا څرنګه به (نفع ورسوي) دوى ته هغه وخت چې راشي دوى ته (قيامت) پند اخيستل توبه ايستل د دوى؟.

تفسير: يعنې د قرآن نصيحتونه، د پخوانيو قومونو عبرت لرونکې قصې، د جنّت وعدې، او د دوزخ وعيدونه يې ګرد واورېدل، اوس د هغو د منلو لپاره د کوم وخت په انتظار کې دي؟ آيا دې خبرې ته دوى سترګې نيولي دي چې قيامت ناڅاپه د دوى په سر باندې ودريږي؟ د قيامت څوعلامې او نښې خو اوس هم راښکاره شوي دي، خو کله چې پخپله قيامت راودريږي؛ نو هلته به دوى ته د پوهنې د حاصلولو وخت کله پاتې وي، يعنې د هغه وخت منل او پوهېدل چې او بېکاره دي، ځکه چې په هغه باندې نجات او ژغورېدل نه حاصليږي.

فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ

نو پوه شه (اى مخاطبه) شان دا دى چې نشته هيڅ بر حق معبود مګر يواځې الله دى، او مغفرت وښنه غواړه د ګناه خپلې، او لپاره د مؤمنانو سړيو او مؤمناتو ښځو.

تفسير: د هر سړي ذنب (ګناه) د هغه له مرتبې سره سمه وي، دکوم کار ډېره ښه خوا پرېښودل او لږه ښه خوا غوره کول که څه هم د جواز او د استحسان مرتبه ولري، ځينې اوقات د مقرّبينو په حق کې ذنب «ګناه» ګڼل کيږي، د «حسنات الأبرار سيئات المقرّبين» معنى همدا ده، په حديث کې راغلي دي چې «نبي کريم صلى الله عليه وسلم به د ورځې سل کرته استغفار فرمايه».

وَاللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَاكُمْ ﴿١٩﴾

او الله ته معلوم دی ځای د ګرځېدلو ستاسې (په ورځ کې يا په دنيا کې)، او ځای د هستوګنې ستاسې (په شپه کې، يا په آخرت کې).

تفسير: په هومره پردو کې چې وګرځئ؛ بيا به جنّت يا دوزخ ته ورسېږئ، چې هغه ستاسو اصلي ځای او کور دی.

وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُورَةٌ ۚ

او وايي هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی: ولې نه نازلول کيږي يو سورت (د قرآن په باب د قتال د کفّارو سره).

تفسير: داسې يو سورت چې په هغه کې د جهاد اجازه وي.

فَإِذَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ مُحْكَمَةٌ

نو پس کله چې نازل کړ شي يو سورت محکم.

تفسير: په داسې محکمو او مضبوطو او ټاکليو حکمونو باندې مشتمل وي، چې نه وي منسوخ شوي، او پوره پخپل مهال سم راښکته کيږي، او معنى يې دغسې ظاهريږي چې په کې بل احتمال نه وي غير له قتاله.

وَذُكِرَ فِيهَا الْقِتَالُ ۙ رَأَيْتَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ يَنْظُرُونَ إِلَيْكَ نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۖ فَأَوْلَىٰ لَهُمْ ﴿٢٠﴾

او ياد کړی شوی وي په هغه کې جنګ؛ نو وينې به ته هغه کسان چې وي په زړونو د دوی کې ناروغي (د نفاق) ګوري تاته لکه کتنه د هغه چا چې بيخودي راغلي وي پر هغه باندې له وېرې د مرګ نه، پس هلاکت دې وي دوی لره.

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «مسلمانانو سورت غوښت، يعنې د کافرانو له ربړونو څخه چې ډېر په تکليف وو، هيلې به يې کولې که الله جلّ جلاله د جهاد امر راکړي؛ نو هغه چې ځمونږ له لاسه کېدی شي هغه به مونږ وکړو، کله چې د جهاد امر راغی؛ نو پر منافقانو او خامو خلقو باندې دروند شو، په وېرېدلو او ټېغو ختليو سترګو سره به يې پيغمبر ته کتل، او د حال په ژبې سره به يې ويل: «کاشکې مونږ له دې امر څخه معاف اوسو !». په زياته وېره کې د سترګو رونق او ښايستوالی نه پاتې کيږي، لکه چې د ځنګدن په وخت کې د سترګو نور ورک کيږي.

طَاعَةٌ وَقَوْلٌ مَعْرُوفٌ ۚ فَإِذَا عَزَمَ الْأَمْرُ ۚ فَلَوْ صَدَقُوا اللَّهَ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ ﴿٢١﴾

طاعت کول (د دوی الله ته) او خبره نېکه کول (تاته غوره دي دوی ته)، پس هر کله چې فرض شي کار (د جهاد) پس که چېرې رښتيا ويل کړي وی دوی له الله سره (په اظهار د حرص جهاد ته)؛ نو خامخا به وو دغه رښتيا ويل بهتر دوی ته.

تفسير: په ښکاره سره دا خلق امر مني، او په خپلو ژبو سره په اسلام او د هغه په احکامو باندې اقرار کوي، مګر د کار خبره دا ده چې ښايي په عمل سره هم هغوی د الله او د رسول هر امر ومني، ښې او معقولې خبرې وکړي، او بيا د جهاد او د نورو زورورو کارونو په مهال کې د الله جلّ جلاله رښتيني بندګان ثابت شي، نو دا صورت به د هغوی د ښېګڼې او بهترۍ وي.

فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ ﴿٢٢﴾

پس آيا نژدې يئ تاسې (ای منافقانو) که چېرې بادشاهان او متصرّفان شئ، نژدې يئ دا ته چې فساد به کوئ په ځمکه کې، او پرې به کړئ تاسې (خپلولۍ او) قرابتونه خپل.

تفسير: د حکومت او اقتدار په نشه کې خلق په عمومي ډول په اعتدال او انصاف باندې قائم نه پاتې کيږي، او د دوی دنيوي حرص لا زياتيږي، بيا د مال او د جاه په کشمکش کې د غرض خوښولو جګړې پيدا کيږي، چې د هغه وروستنۍ نتيجه داسې شي چې په دنيا کې عمومي فتنه او فساد پورته کيږي، او يو له بل څخه خپل تعلّقات او اړيکې پرې کوي، شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «يعنې له خپل ځان په تنګ کيږئ، او د جهاد اروز کوئ، نو که الله تعالى همدا تاسې غالب کړي، او بری درکړي؛ نو فسادونه به وکړئ».

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَىٰ أَبْصَارَهُمْ ﴿٢٣﴾

دا (مفسدان) هغه کسان دي چې لرې کړي دي دوی الله (له رحمت) پس نو کاڼه کړي يې دي دوی (له اورېدلو د حق نه)، او ړندې کړي يې دي سترګې د دوی (له ليدلو د حق نه).

تفسير: د حکومت په غرور کې کاڼه او ړانده شوي ظلم کوي او ضرر رسوي، او د نورو په پوهولو هم پخپل خير او شر باندې نه پوهيږي، د الله جلّ جلالُه له لعنت څخه بالکل سنګدل او کلک زړه ګرځېدلي دي، او دا ټول د هغوی د بد اختيار او د استعداد له قصوره ډګر ته راوتلي دي.

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا ﴿٢٤﴾

آيا فکر نه کوي دوی په قرآن کې؟ بلکه پر زړونو (د دوی باندې) قلفونه د زړونو د دوی دي.

تفسير: منافق په قرآن کې غور نه کوي، يا د هغوی د شرارتونو لامله د هغوی پر زړونو باندې مهر او قفل لګېدلی دی، چې د نصيحت د تللو لاره بنده شوې ده، که د قرآن د پوهېدلو توفيق د دوی په برخه وی؛ نو په آسانۍ سره به پوهېدل چې په جهاد کې ځومره اخروي او دنيوي ګټې شته.

إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَىٰ لَهُمْ ﴿٢٥﴾

بېشکه هغه کسان چې بېرته ګرځېدلي دي (له ايمانه) پر شاوو خپلو پس له هغې څخه چې ښکاره شوې ده دوی ته سمه لاره؛ شيطان ښايسته کړي دي دوی ته (ګناهونه)، او مهلت ښکاره کړی دی (شيطان) دوی ته.

تفسير: منافقان وروسته د اسلام له اقراره او د هغه د رښتيا ګڼلو له اعتراف څخه کله چې د ازموينې وخت راشي؛ د خپل قول او اقرار څخه غاړه غړوي، او په جهاد کې له مسلمانانو سره ملګرتوب نه کوي، شيطان هغوی ته دا خبره ورښوولې ده چې که جنګ ته لاړ نشي؛ نو تر ډېر مدّت پورې به ژوندون کوي، نو خامخا به د جنګ له ورتګه او په هغه کې له مړ کېدلو څخه څه ګټه دررسيږي.

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ ﴿٢٦﴾

دغه (مهلت دوی ته په سبب د دې دی چې) بېشکه دوی وویل هغو کسانو ته چې بد یې ګڼه هغه (قرآن) چې رالېږلی دی الله: ژر به حکم ومنو ستاسې (او فرمانبرداري به وکړو) په ځینو کارونو کې (چې مرسته «مدد» ده په جنګ او عداوت د رسول الله کې)، او الله ته معلومې دي پټې خبرې (او مشورې) د دوی هم.

تفسیر: منافقانو به له یهودانو او کافرانو سره ویل: که څه هم مونږ په ښکاره ډول سره مسلمانان شوي یو، خو مونږ به له مسلمانانو سره نه یو ځای کیږو، او نه به د هغوی په مرسته جنګ وکړو، بلکه که مو د لاسه وشو؛ ستاسې سره به مرسته وکړو، او په ګردو چارو کې به مونږ ستاسې خبرو ته غوږ ږدو.

فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ ﴿٢٧﴾

نو څرنګه به وي (حال د دوی) کله چې قبض کوي دوی لره پرښتې (سا یې راکاږي) وهي به دوی مخونه د دوی، او شاګانې د دوی.

تفسیر: په هغه وخت کې به له موت څخه څرنګه خلاصیږي؟، بېشکه په هغه وخت کې به د نفاق خوند څکي.

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اتَّبَعُوا مَا أَسْخَطَ اللَّهَ وَكَرِهُوا رِضْوَانَهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ ﴿٢٨﴾

دغه (سا وښکل د دوی په دغه سختۍ سره په سبب د دې دي چې) بېشکه دوی متابعت کړی وو د هغه شي چې په غضب کاوه به یې الله، او بده یې ګڼله خوښي د دغه (الله)، پس ابته (ضایع) خراب کړل (الله نېک) عملونه د دوی.

تفسیر: د الله جلّ جلاله د خوښولو لاره یې نه ده خوښه کړې، او په هغې لارې باندې یې تګ کړی دی چې د هغه نه وه خوښه، ځکه د مړ کېدلو په وخت کې ډارېدونکی او اوتر ښکارېده، او الله تعالی د هغه کُفر او طغیان په سبب د هغه ګرد عملونه بېکاره کړل، او هیڅ یو عمل هغه ته په بل ژوندون کې ګټه ونه رسوله.

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ أَنْ لَنْ يُخْرِجَ اللَّهُ أَضْغَانَهُمْ ﴿٢٩﴾

آیا ګمان کوي هغه کسان چې په زړونو د دوی کې ناروغي (د شک او د نفاق) ده؛ چې نه به ښکاره کوي الله تعالی پټې کینې د دوی له مؤمنانو سره؟ بلکه ظاهرې به یې کړي.

تفسیر: منافقانو پخپلو زړونو کې له اسلام او مسلمانانو سره حسد او ډېر عداوتونه لري، او له هغوی سره دښمني او کینې کوي، آیا دوی داسې خیال کوي چې دا به د هغوی په زړونو کې پټ پاتې کیږي؟ او الله تعالی به هغه نه ښکاره کوي؟ او مسلمانان به د هغوی په مکر او فریب باندې نه خبریږي؟ هیڅکله به داسې نه کیږي !، بلکه د هغوی د باطن خبیث به هرومرو ښکاریږي، او د ازموینې په داسې بهتې کې به اچول کیږي، چې هلته به ټولې ککړتیا او خیري له پاکو شیانو څخه جلا کیږي.

وَلَوْ نَشَاءُ لَأَرَيْنَاكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيمَاهُمْ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِي لَحْنِ الْقَوْلِ

او که اراده وفرمایو مونږ؛ نو خامخا به وښیو مونږ تاته دغه کسان، نو خامخا وبه پېژنې ته دوی په (علائمو د) څېرو د دوی، او (قسم دی چې) خامخا وبه پېژنې ته دوی په ګرځولو اړولو د خبرو کې.

تفسير: كه الله تعالى اراده وفرمايي؛ نو منافقان به فردًا فردًا وټاكي، او تاته به يې دروښيي، او نامه په نامه به يې درځرګند كړي، چې په دې مركه كې دغه او هغه سړي منافقان دي، خو د الله تعالى بالفعل حكمت د داسې سپينو ويلو متقاضي نه دى، برسېره په دې الله تعالى تاسې ته اعلى درجه د فراست نور او رڼا دربښلي دي، چې تاسو هغوى له څېرې او بشرې څخه پېژنئ، او وروسته له دې څخه هغه خلق د خبرو اترو او د وينا له ډوله هم پېژندلى شئ، ځكه چې د منافقانو او د مخلصانو د خبرو كولو او ويلو لهجه او د ګفتګو چل سره جلا وي، هغه زور، شوكت او د خلوص رنګ چې د مخلصانو له خبرې څخه له لرې ښكاري؛ هغه د منافقانو په خبرو كې هيڅ نه وي.

وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَعْمَالَكُمْ ﴿٣٠﴾

او الله ته معلوم دي ټول اعمال ستاسې.

تفسير: له بندګانو څخه د كومې خبرې پټېدل امكان لري، مګر الله تعالى ته ستاسې ګردې چارې كه پټې وي كه څرګندې وي؛ ورښكاره دي.

وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّىٰ نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنكُمْ وَالصَّابِرِينَ ۙ

خامخا او هرومرو مو آزمويو تاسې (په جهاد او نورو تكاليفو سره) تر هغه پورې چې معلوم او ظاهر كړو مونږ جنګ كوونكي له تاسې څخه، او صبر كوونكي (په جهاد او په نورو احكامو او تكاليفو په اسلام كې).

تفسير: د جهاد او د نورو شيانو د احكامو ازمويته مقصود ده، په همدې سختې ازمويني كې دا ښكاره كوي چې كوم كسان د الله تعالى په لاره كې خپلې وينې تويوي؟ او په ډېره سخته ازمويته كې ثابت قدم دريږي؟ او كوم سړى تر تېښتي؟ او هغه په ښه شان سره جلا كړو، او تاسو ته يې درښكاره كړو.

وَنَبْلُوَ أَخْبَارَكُمْ ﴿٣١﴾

او ازمويو مونږ عملونه حالونه خبرونه ستاسې (د ايمان چې آيا رښتيا ده كه دروغ؟).

تفسير: د هر سړي د ايمان، طاعت، او د انقياد ټول معلوميږي، او د ګردو داخلي خبرې عملاً محققې كيږي.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَشَاقُّوا الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَىٰ لَن يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا ۚ وَسَيُحْبِطُ أَعْمَالَهُمْ ﴿٣٢﴾

بېشكه هغه كسان چې كافران شوي دي، او منع كوي يعني رااړوي نور (خلق) له لارې د الله څخه، او مخالفت كوي له رسول سره پس له هغه چې ښكاره شوه دوى ته لاره سمه؛ له سره به ضرر ونه رسوي دوى الله ته هيڅ شى، او ژر ده چې ابته (ضايع) خراب به كړي (الله ـ نېك) عملونه د دوى.

تفسير: د خپلو ځانونو نقصان كوي، الله تعالى ته په دې كې څه نقصان نشته، نه د هغه دين او نه د هغه پېغمبر څه خرابولى شي، هغه قدرت لرونكى الله تعالى د هغوى ګردې پلمې (تدبيرونه) ورخرابوي، او ټولې داسې چارې ړنګوي، او د هغوى زيارونه (كوښښونه) ورانوي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوٓاْ أَعْمَٰلَكُمْ ﴿٣٣﴾

ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو) اطاعت کوئ د الله او اطاعت کوئ د رسول الله، او مه باطلوئ تاسې عملونه خپل (په معاصيو سره).

تفسير: په جهاد يا د الله په لاره کې بل کوم محنت او رياضت هلته منلی او مقبول کيږي، چې د الله او د رسول الله له احکامو سره سم وي، او يوائې پخپل شوق، ذوق، خواهش او د طبيعت په غوښتنې سره نه وي، که نه داسې عملونه بېکاره او ابته کيږي، او توی ځي، او ضايع کيږي، هيڅ يو مسلمان داسې کار نه کوي چې د هغه کوم ښه کار توی لاړ شي، يا له کوم سببه ضايع او بېکاره شي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ مَاتُواْ وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ ﴿٣٤﴾

بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي، او منع کوي (خلق) يا منع راوړي له لارې د الله نه، بيا مړه شي او دوی کافران وي؛ پس له سره به مغفرت ونه کړي الله دوی ته.

تفسير: هيڅ يو کافر چې د کفر په حالت کې مړ شی د الله تعالی له خوا نه بخښل کيږي، په تېره بيا هغه کافران چې نور خلق د الله تعالی له لارې څخه ګرځوي، او تل په همدې پسې لوېدلی وي، چې څوک د نبي الله د لارې په لوري لاړ نشي.

فَلَا تَهِنُواْ وَتَدْعُوٓاْ إِلَى ٱلسَّلْمِ ﴿٣٥﴾

پس سُستي مه کوئ، او مه ضعيفان کيږئ (په جهاد) کې، او مه غواړئ تاسې (کفّار) روغې ته (بلکه جنګ ورسره وکړئ).

تفسير: مسلمانانو ته ښايي چې د کفّارو په مقابله کې سُست او کم همّت نشي !، او د جنګ له سختيو څخه ونه ويريږي، او د جهاد په موقع کې د روغې په لوري ونه ځغلي !، که نه دښمن زړور کيږي، او په تاسې باندې به خپل ډېر زور او قوت غورځوي، او د اسلام ټولی به مغلوب او رسوا کيږي، هو ! کله چې د اسلام مصلحت او د مسلمانانو ښېګڼې تر سترګو لاندې وي؛ نو هلته روغه بده نه ده، لکه چې وروسته د «الفتح» په سورت کې راځي، په هر حال د روغې بنا ښايي پخپل کم همّتی او نامردۍ باندې نه وي.

وَأَنتُمُ ٱلْأَعْلَوْنَ وَٱللَّهُ مَعَكُمْ وَلَن يَتِرَكُمْ أَعْمَٰلَكُمْ ﴿٣٥﴾

حال دا چې همدا تاسې غالب يئ (ای مؤمنانو ! پر منکرانو باندې)، او الله له تاسې سره دی (په ثبات نصرت کې)، او له سره به ناقص او ضايع نه کړي له تاسې عملونه ستاسې (بلکه په قيامت کې به پوره جزاء درکړي).

تفسير: د ويرېدلو هيڅ يوه خبره نه ده، که صبر او استقلال وښيئ، او د الله تعالی په احکامو باندې ثابت قدم واوسئ؛ نو الله له تاسې سره دی، او هغه په پای کې تاسې ته بری درکوي، او په هيڅ حال کې تاسې ته نقصان او خساره نه درپېښوي.

إِنَّمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَإِن تُؤْمِنُواْ وَتَتَّقُواْ يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ وَلَا يَسْـَٔلْكُمْ أَمْوَٰلَكُمْ ﴿٣٦﴾

بېشکه دا ژوندون لږ خسيس لوبې او مشغولېده دي، او که ايمان راوړئ تاسې او پرهېز وکړئ (له معاصيو)؛ در به کړي تاسې ته (الله) اجرونه ستاسې، او نه به غواړي له تاسې (ټول) مالونه ستاسې (بلکه مفروضه زکات درڅخه اخلي، يا نه به غواړي له تاسې هيڅ مالونه د تاسې ځکه چې غنی دی).

تفسير: د آخرت په مقابل کې د دنيا حقيقت د يوې لوبې او تماشې غوندې دی، که تاسې ايمان او تقوی غوره کړئ، او له دې لوبو او تماشو څخه لرې خپل ځانونه وژغورئ؛ نو الله تعالی به د هغه بدل تاسې ته پوره درکوي، او ستاسې مال به هم له تاسې څخه نه غواړي، هغه مال ته هيڅ اړ (مجبور) نه دی، دی پخپله مال درکوونکی دی.

إِن يَسْـَٔلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوا۟ وَيُخْرِجْ أَضْغَٰنَكُمْ ﴿٣٧﴾

که وغواړي دی له تاسې څخه هغه (مال)؛ پس ښه کوښښ وکړي په غوښتلو کې (له تاسې)؛ نو بُخل به وکړئ تاسو (په دغې سره)، او راوه به باسي (په دغو غوښتلو يا بخل سره) پټې کينې دښمني ستاسې (له اهل اسلام سره).

تفسير: که الله تعالی په سختی سره د هغوی ګرد مال وغواړي، چې هغوی ته يې وربښلی دی؛ نو څومره د الله بندګان به وي چې په خلاص زړه او رونړ تندي د دې امر په مقابل کې (لبّيک) ووايي، زياتره به هغه سړي وي چې د بخل او تنګدستۍ ثبوت ښکاره کوي، او د مال لګولو په وخت کې به د هغوی د زړونو خپګان له لرې ښکاريږي.

هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ لِتُنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ

واورئ ! خبردار شئ ! تاسې چې يئ ای دغو کسانو چې بللي شوي يئ لپاره د دې چې نفقه کړئ مال ولګوئ په لاره د الله کې (په هغو طريقو سره چې فرض کړې يې دي په تاسې لکه زکات او جهاد).

تفسير: يوه برخه د الله له ورکړی شوي مال څخه د ده په لاره کې د خپلې ګټې لپاره ولګوئ !.

فَمِنكُم مَّن يَبْخَلُ ۖ وَمَن يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ

پس ځينې له تاسو هغه دي چې بُخل کوي (نه لګوي مال) او هغه څوک چې بُخل کوي، مال نه لګوي؛ نو بېشکه چې بخل کوي خپل ځان ته (چې محروموي يې له ثوابه).

تفسير: ستاسې دنيا ستاسې د فائدې لپاره ده، که يې نه ورکوئ؛ نو د خپل ځان نقصان کوئ، الله تعالی ستاسې د ورکولو او نه ورکولو هيڅ پروا نه لري.

وَٱللَّهُ ٱلْغَنِىُّ وَأَنتُمُ ٱلْفُقَرَآءُ ۚ

او الله غني بې پروا دی (له نفقې د تاسې او له هر څيزه)، او تاسې فقيران محتاجان يئ (الله ته).

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «د مال د لګولو هغه تأکيدونه چې تاسې يې اوروئ؛ داسې خيال ونه کړئ چې الله تعالی يا د هغه رسول له تاسې څخه سوالونه کوي، داسې نه دی، دا ګردې ويناوې د تاسې د ښېګڼې لپاره دي، بيا د يوه په مقابل کې په زرګونو عوضونه تاسې ته رسيږي، که تاسې له داسې ګټې څخه مخ اړوئ؛ نو الله تعالی او د هغه رسول ستاسې څه پروا نه لري.

وَإِن تَتَوَلَّوْا۟ يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓا۟ أَمْثَٰلَكُم ﴿٣٨﴾

او که وګرځېدی تاسې (له ايمان او سخا نه؛ نو الله) به بدل کې راولي يو قوم بل بې له تاسې، بيا به نه وي هغوی په شان د تاسې (ګرځېدونکي له احکامو د الله، بلکه فرمانبردار به وي).

تفسير: الله تعالى په هغه حكمت او مصلحت چې خپلو بندګانو ته د خرڅ كولو امر وركوي؛ د هغه حاصل كېدل پر تاسې باندې څه انحصار نه لري، فرض كړئ ! كه تاسې بخل او كينې وكړئ، او د الله تعالى له امره مخه واړوئ؛ نو الله تعالى ستاسې په ځای بل كوم قوم دروي، چې هغه قوم به تاسې غوندې كنسك او بخيل نه وي، او په لوی زړه او ډېره خوښۍ به د الله تعالى د احكامو تعميل او د هغه په لاره كې به خپل مال لګوي، په هر ډول د الله جلّ جلاله حكمتونه او مصلحتونه پوره كېدونكي دي، خو تاسې له دې سعادته بې برخې پاتې كېږئ.

تمت سورة محمد صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم، بتوفيق الله تعالى وإعانته، فله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الفَتحِ

«د (الفتح) سورت مدني دی، (۲۹) آیته او (۴) رکوع لري»، په تلاوت کې (۴۸) او په نزول کې (۱۱۱) دی، د (الجمعة) له سورت څخه وروسته نازل شوی دی.

بِسۡمِ اللَّهِ الرَّحۡمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

د دې سورت په مختلفو آیتونو کې د متعدّدو واقعاتو په لورې اشارې دي، چې د فهم د سهولت لپاره د هغو خُلاصه او لنډون داسې بیانېږي:

الف: پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مدینه کې خُوب ولید چې: «په امن او امان سره مکې ته داخل او عمره یې ادا کړې، حلق او قصر یې فرمایلی دی»، دوی دا خوب صحابه وو ته ووایه، خو د ورتګ نېټه یې ونه ټاکله (مقرر نه کړه)، مګر د شدّت اشتیاق څخه د ډېرو داسې خیال کېده چې سږ کال به عمره میسّره کیږي، او اتفاقًا دوی هم د عمرې قصد وفرمایه.

ب: دوی له یونیم زر سړیو سره د عمرې په نیت د مکې په لورې وخوځېدل، او «هدیې» هم له دوی سره وې، کله چې دا خبر مکې ته ورسېد؛ قریشو یوه لویه جرګه جوړه او په هغې کې دا خبره غوټه کړه چې دوی به نه پریږدو چې مکې ته راشي، سره له دې چې سم د مکې معظمې له اصولو سره دښمنانو حق درلود (لرلو) چې حج او عمره وکړي، کله چې محمدي قافله مکې ته نژدې او (حُدیبیې) ته ورسېده؛ نو د دوی اوښه هلته چو شوه، او سره له ډېرو وهلو او خوځولو او کشمکش هیڅ له خپل ځای څخه ونه خوځېده، تر څو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «حبسها حابس الفیل» او ویې ویل: «قسم په الله که د مکې خلق له ما څخه د داسې خبرې مطالبه وکړي چې په هغې کې د حرمات الله تعظیم قائم وي؛ زه به هغه منم»، نو په هغه ځای کې یې قیام وفرمایه.

ج: محمد رسول الله مبارک صلی الله علیه وسلم مکیّانو ته سړي ولېږل، چې «مونږ د جګړې لپاره نه یو راغلي، مونږ پرېږدئ چې خپله عمره وکړو، او بېرته لاړ شو»، کله چې د نبوي صلی الله علیه وسلم ځواب ور ونه رسېد؛ نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم د عُثمان رضي الله تعالی عنه په خوله هم دا خبره هغوی ته ولېږله، او هغو نارینه وو او ښځو مسلمانانو ته یې زېرې ورکړ چې هلته مغلوب او مظلوم اوسېدل: «نژدې ده چې په مکه کې اسلام غالب شي»، قُریشو عثمان رضي الله تعالی عنه ستون کړ، کله چې د عُثمان رضي الله تعالی عنه بېرته راتګ وځنډېد (ایسار شو)؛ دا خبره خوره شوه چې هغه هلته وژلی شوی دی، دلته رسول الله مبارک په دې خیال چې ښایي اوس د جګړې وار هم راورسیږي؛ ځکه اصحاب کرام رضي الله تعالی عنهم تر یوې ونې لاندې کېنول، او د جهاد بیعت یې ترې واخیست، کله چې قریشو د بیعت خبره واوربده؛ وویرېدل، او عُثمان رضي الله تعالی عنه یې بېرته ولېږه.

د: بیا د مکې څو غټان د روغې په غرض د محمد رسول الله مبارک صلی الله علیه وسلم په حضور کې حاضر شول، او صلحنامه یې ولیکله، دلته پر ځینو خبرو باندې بحث او مناقشه پېښه شوه، او مسلمانان په قهر شول، او ویې ویل چې: د داسې خبرې پرېکړه په توره وکړي، خو رسول الله مبارک د مکیانو ځکه د غوښتنې ومنلې، او مسلمانانو د رسول الله مبارک په وینا او د کفارو د ډېرو اصرارو لامله له ضبط او تحمّل څخه کار واخیست، او روغه غوټه شوه، په دې روغلیک (صلحنامه) کې یو شرط د کفارو له لوري دا وو چې سږ کال تاسې مسلمانان بېرته لاړ شئ، کال ته بې وسلې

راشئ او عمره وکړئ !، تر لسو کلونو پورې به د دواړو ډلو په منځ کې جنګ نه کیږي، په دې مدّت کې هومره سړي چې له مکې څخه مدینې ته راشي؛ ښایي چې بېرته ولېږل شي، که له مدینې څخه کوم سړی مکې ته راشي؛ هغه همدلته په مکې کې ساتل کیږي، وروسته له دغې روغې څخه دوی په (حُدیبیې) کې د هدي حیوانات ذبح او وروسته له حلق او قصر یې خپل احرام خلاص کړ، او مدینې منورې ته بېرته راغلل.

هـ: په لاره کې همدا د (الفتح) سورت نازل شو، دا ځکه چې پېښې د هجرت په (۶) کال کې پېښې شوې.

و: محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په (۷) کال د هجرت د «ذي القعدة الحرام» په میاشت کې سم له ټرون سره د «عمرة القضاء» لپاره مکې ته تشریف یووړ، او په امن او امان او په زړه پورې یې عمره اداء کړه.

ز: د هغه روغلیک (صلحنامې) هغه خبره چې تر لسو کلونو پورې به جنګ نه کیږي؛ د قریشو له خوا ماته شوه، نو ځکه د هجرت په (۸) کال د رمضان المبارک په میاشت کې مکه معظمه د مسلمانانو په لاس فتحه شوه.

إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ۝١ لِّيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ

بېشکه چې مونږ فتح او بری مو درکړی دی تاته فتحه، او بری ظاهر، او ښکاره. لپاره د دې څو چې وښېي تاته الله هغه چې پخوا تیر شوي دي له ځکناه د تا څخه، او هغه چې وروسته دي (له ځکناه څخه).

تفسیر: د حُدیبیې روغه که څه هم په ښکاره ډول د ذلت او مغلوبیت روغه په نظر راځي، او د هغې د شرائط له لوستلو څخه په بادي النظر کې دا محسوس کیږي چې ځکردې خبرې د قریشو په ګټه دي، لکه عمر الفاروق رضي الله تعالی عنه او نورو اصحابو کرامو رضوان الله تعالی علیهم أجمعین د دې روغې د ښکاره توری له کتلو څخه سخت خپه، محزون، مضطرب او پرېشان وو، دوی خیال کاوه چې د مسلمانانو د دې یو نیم زر (۱۵۰۰) سر جارونکي (قربانوونکي) لښکر په مخکښې به قریش او د هغوی نور طرفداران څه اهمیت لري، ولې د دې راز ځکردو جګړو پرېکړه او فیصله په توره سره ونه کړه شي؟ مګر د رسول الله صلی الله علیه وسلم سترګې هغه احوالو او نتیجو ته وې چې د نورو له سترګو څخه به پټې وې، ځکه چې الله جلّ جلالُه د دوی ټټر (سینه) د ډېرو سختو پېښو د تحمّل لپاره پرانیستلی وو، دوی په بې مثاله استغناء، توکّل، تحمّل، او ایثار سره هغه شرطونه ومنل، او خپلو اصحابو ته یې په دې لنډو توریو (الله ورسولُه أعلم) سره ډاډینه (سُکون) او تسلي ورکوله، یعنې الله تعالی او د هغه رسُول په داسې خبرو باندې ډېر ښه پوهیږي، تر څو چې دا سُورت نازل شو، او الله تعالی د دې روغې او فیصلې نوم «فتح مبین» کېښود، خلقو په دې باندې هم تعجّب کاوه، او ویل به یې چې :یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ! دا بری دی؟ نبي صلی الله علیه وسلم به فرمایل چې: «هو ! لوی بری دی».

وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ

او (بل لپاره د دې) چې پوره کړي (الله په فتحه د مکې او د نورو ښارونو سره) مهرباني خپله پر تا باندې.

تفسیر: یوائې له تقصیراتو څخه نه تیریږي، بلکه هر هغه ظاهري، باطني، مادي، روحي انعام او احسان چې تر اوسه پورې درسره شوی دی، د هغه تکمیل او تتمیم هم کاوه شي.

وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ۝٢

او (بل لپاره د دې) چې وښېي تاته سمه صافه لاره.

تفسير: تل به دې د هدايت او استقامت لاره کې قائم لري، د اسلام د حکومت د قائمېدلو په لاره کې به تاته هيڅ مشکلات نه در پېښېږي، خلق به ډلې ډلې ستاسو په لار ښوونه د اسلام په سمه لاره راځي، او په دې ډول د تا د حسناتو په ذخيره کې بېشماره زيادت کيږي.

وَّيَنْصُرَكَ اللّٰهُ نَصْرًا عَزِيْزًا ۝۳

او (بل لپاره د دې) چې کومک (مدد) وکړي الله تعالى له تا سره مدد غالب زبردست.

تفسير: د الله تعالى داسې مدد به راشي چې هيڅوک به يې نشي بندولى، او د هغه په مرسته به فتح او ظفر ستاسې له قدمونو سر مل وي.

هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ ۭ

دغه (الله) هغه ذات دى چې نازله کړې يې ده سکينه، او ډاډينه (سکون) په زړونو د مؤمنانو کې لپاره د دې چې زيات کړي دوى لره ايمان سره له ايمان د دوى.

تفسير: اطمينان او ډاډينه (سکون) يې راښکته کړه يعنې سره له دې چې د هغوى له طبعې څخه خلاف وو، د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حکم باندې ټينګ ودرېدل، او له ضد کوونکيو کافرانو سره يې ضد ونه کړ، نو د هغه په برکت د دوى ايمان نور هم زيات شو، اول د جهاد په بيعت سره يې ثابته کړه چې مونږ د الله جلّ جلاله په لاره کې د جنګ کولو او ځان جارولو (قربانولو) لپاره حاضر يو، دا هم د ايمان يو رنګ وو، وروسته له دې کله چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم د مسلمانانو له جذباتو څخه پرته (علاوه) روغه وکړه؛ نو دغه د هغوى د ايمان د رنګ بله نندارە وه چې خپل جوش، جذبات او عواطف يې په زور سره ټينګ کړل، او د الله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د فيصلې په مقابل کې يې غاړه کېښودله، رضي الله تعالى عنهم ورضوا عنه.

وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝۴

او خاص الله لره دي لښکرې د اسمانونو او د ځمکې (که اراده وفرمايي الله د نصرت د دين خپل؛ بې له تاسې څخه يې هم کوي)، او دى الله ښه خبردار ښه حکمت والا.

تفسير: دغه خبره همغه پاک الله تعالى ښه معلومه ده چې کوم وخت تاسو ته د قتال امر کول مصلحت دى؟ او په کوم وخت کې له قتال څخه ببرته درېدل، او روغه کول تاسې لره ښه دي؟ که تاسې ته د قتال امر درکړ شي؛ نو هيڅ د کفارو د کثرت له خياله تردّد ونه کړئ، ځکه چې د ځمکې او د اسمانونو د لښکرو مالک همغه الله تعالى دى، چې سره د لږ توب ستاسې امداد او مرسته په غيبي لښکرو سره هم کولى شي، لکه چې په «بدر، احزاب، حُنين» او نورو کې يې وکړه.

لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ ۭ

لپاره د دې چې داخل کړى مؤمنان سړي او مؤمناتې ښځې په جنّتونو کې چې بهيږي د لاندې (د ونو او مانيو) د هغو (څلور قسمه ويالې) حال دا چې همېشه به وي دوى په هغو (جنّتونو) کې، او (لپاره د دې چې) ورژوي الله تعالى له دوى څخه ګناهونه د دوى.

تفسير: کله چې رسول أکرم صلى الله عليه وسلم ﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا﴾ الآية ولوست؛ نو اصحابو هغوى ته مبارکي عرض کړه، او ويې ويل: يا رسول الله ! دا خو تاسې ته شوه، مونږ ته څه ده؟ نو ځکه دا آيتونه نازل شول، يعنې الله تعالى

اطمينان ډاډينه (سکون) او سکينه رابښکته کړله، او د مؤمنانو ايمان يې لا زيات کړ، تر څو دوی په ډېر اعزاز او اکرام سره په جنّت کې داخل کړي، او د هغو ګردې خرابۍ او کمزورۍ معاف کړي، په حديث کې دي: هغو اصحابو چې د حُديبيې بيعت کړی دی؛ هيڅ يو له هغو څخه هم دوزخ ته نه ځي.

وَكَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ اللّٰهِ فَوْزًا عَظِيمًا ۝

دی دغه (غُفران او ادخال د جنّت) په نزد د الله په مراد رسېدل، بری موندل ډېر لوی.

تفسير: ځينې نقّال صوفيان يا مغلوب الحال لويان وايي چې: «جنّت غوښتل د ناقصانو کار دی»، له دې ځای څخه رابښکاره شوه چې د الله تعالى په نزد دا لوی کمال دی.

وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ

او (لپاره د دې) چې عذاب کړي (الله) منافقان سړي او منافقانې ښځې او مشرکان سړي او مشرکانې ښځې.

تفسير: د مؤمنينو په زړونو کې يې د صُلحې او روغې له خوا ډاډينه (سکون) پيدا کړه، او د اسلام اساس او بنسټ يې ټينګ کړ، او د اسلامي فتوحاتو او ترقياتو ورونه يې خلاص کړل، چې په پای کې به د کافرانو او منافقانو د مصيبت او د ماتې سبب کيږي، او هغوی ته به سخته سزا رسيږي.

الظَّآنِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ ؕ

چې ګمان کوونکي دي پر الله باندې ګمان د بدۍ (چې الله به هيڅ کله رسول الله ته بری نه ورکوي).

تفسير: «بد اټکلونه» دا دي چې د مدينې د تګ په وخت کې منافقان پرته له «جدّ بن قيس» څخه ګرد هلته پاتې شول، او پلمې يې ځان ته جوړې کړې، ولې چې هغوی داسې اټکل کاوه چې په مکّه کې ضرور جنګ پيښيږي، او دا ګرد مسلمانان په ښکاره ډول عمرې ته راغلي دي، خو په چل سره غواړي چې په معظمه مکه باندې تصرّف وکړي.

عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ۚ

پر دوی باندې دي راګرځېدل د بدۍ (په ذلّت او عذاب) سره.

تفسير: د زمانې په ګردش او د مصيبت په احاطه کې راغلي تر کومه به احتياط او وړاندې کتل وکړي.

وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ۝ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝

او غضب کړی دی الله پر دوی باندې، او لرې کړي دي (الله دوی له رحمت خپله)، او تيار کړی دی الله دوی ته (عذاب د) دوزخ، او بد ځای د ورتللو دی (دغه دوزخ). او خاص الله لره دي لښکرې د اسمانونو او د ځمکې، او همېشه دی الله ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

تفسير: که هغه سزا درکړي؛ نو څوک به مو وژغوري؟ خدايي لښکر به مو په يوه شېبه کې وړې ذرې کړي، خو هغه ذات سره د زبردستی حکمت لرونکی هم دی، او د الهي حکمت داسې مقتضی نه دی، چې سمدلاسه هغوی ته سزا ورکړي.

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ۝٨

بېشکه مونږ لېږلی يې ته (ای محمده !) شاهد او زېری ورکوونکی او ويروونکی.

تفسير: تاسې د الله امر منونکيو ته زېری د خوښی ورکوئ، او غاړه غړوونکو ته وېره اوروئ، او خپل احوال ښيئ، لکه چې له ﴿إِنَّا فَتَحۡنَا﴾ څخه تر دې ځای پورې درې واړه مضامين راغلي دي، او په آخرت کې هم پر خپل امت او هم پر انبياوو عليهم السلام باندې ګواهي ورکوئ.

لِّتُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ

لپاره د دې چې ايمان راوړئ تاسې په الله او په رسول د دغه (الله)، او مدد وکړئ د هغه د دين، او تعظيم وکړئ د هغه.

تفسير: د ﴿وَتُعَزِّرُوهُ﴾ او د ﴿وَتُوَقِّرُوهُ﴾ ضميرونه که الله ته راجع شي؛ نو د الله له مدد کولو څخه د هغه د دين او د هغه د پيغمبر مدد کول دي، که رسول ته راجع شي؛ نو هيڅ اشکال نه پاتې کيږي.

وَتُسَبِّحُوهُ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا ۝٩

او هغه (الله) ته نسبت د پاکۍ وکړئ سبا او بېګا.

تفسير: د الله تعالی د پاکۍ بيان تل کوئ، که په لمانځه کې وئ، او که د باندې له لمانځه څخه وئ.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ ٱللَّهَ يَدُ ٱللَّهِ فَوۡقَ أَيۡدِيهِمۡ

بېشکه هغه کسان چې بيعت کوي له تا سره بېشکه بيعت کوي له الله سره، او لاس د الله له پاسه د لاسونو د دوی دی.

تفسير: خلقو به خپل لاسونه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په لاس کې ورکول، او له هغوی سره يې بيعت کاوه، نو دا يې وفرمايل، چې د نبيّ الله په لاس باندې بيعت کول داسې دي لکه له الله تعالی سره بيعت کول، ځکه چې محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم په حقيقت کې د الله تعالی له جانبه بيعت اخلي، او د هغه د احکامو تعميل او تأکيد د بيعت په وسيله کوي، نو دا هسې ده لکه چې د (۵ جزء د النساء سورت په (۱۱) رکوع (۸۰) آيت کې دي: ﴿مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَ﴾.

فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِمَا عَٰهَدَ عَلَيۡهُ ٱللَّهَ فَسَيُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمَۢا ۝١٠

پس هغه چا چې مات کړ دا بيعت؛ نو بېشکه چې ماتوي به دی بيعت په ځان خپل (او ضرر يې همده ته راجع کيږي)، او هغه څوک چې وفا وکړي په هغه شي چې عهد او اقرار يې کړی دی پر هغه له الله سره؛ پس ژر ده چې ور به کړي الله تعالی ده ته اجر او بدل ډېر زيات (چې د جنّت عطاء او د الله لقاء ده).

تفسير: هغه خبرې چې د بيعت په وخت کې کولی کيږي، که څوک هغه ماتوي؛ نو خپل ځان ته عار او نقصان پېښوي، او الله تعالی او د هغه رسول ته هيڅ يو نقص او ضرر نشي رسولی، او هغه ته د عهد ماتولو سزا ورسيږي، هر څوک چې خپل استقامت ښکاره کړي، او په خپل عهد او پيمان باندې په ټينګه سره ولاړ وي؛ نو هغه ته به د هغه پوره اجر او بدل وررسيږي.

سَيَقُولُ لَكَ الْمُخَلَّفُونَ مِنَ الْأَعْرَابِ شَغَلَتْنَا أَمْوَالُنَا وَأَهْلُونَا فَاسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ

ژر دی چې وبه وايي تاته وروسته پاتې شوي (له تللو د مکې په کال د حُديبيې) له صحرايانو، مشغول کړي يې مونږ مالونو ځمونږ او کورنۍ ځمونږ، نو بښنه وغواړه مونږ لره (د ګناه ځمونږ).

تفسير: له مدينې څخه د وتلو په وخت کې رسول الله مبارک مکې معظمې ته د خپلو تللو اعلان کړی وو، او مسلمانانو ته يې له خپل ځان سره د ورتګ تشويق او رغبت ورکړی وو، ښايي له قرائنو څخه دوی ته هم د جګړې د پېښېدلو کوم احتمال ورپيدا شوی وي، خو له دې څخه هغو کلي والو صحرائيانو چې هنوز ايمان د هغوی په زړونو کې لا ښه ځای نه وو نيولی؛ خپل ځانونه يې پټول، او پخپلو منځونو کې به يې سره ويل: «آيا مونږ د هغه قوم کورونو ته لاړ شو، چې هغوی د محمد صلی الله عليه وسلم پر کور مدينې باندې راغلل، او د هغه ملګري اصحاب يې ورځنې ووژل، آيا مونږ چې د هغو توره دلته ليدلې ده؛ هلته له هغوی سره جنګېدی شو؟ وګورئ چې دا تلونکي هم له دې سفر ببرته راتلونکي نه دي، او ګرد به هلته سره تباه شي»، په دې آيتونو کې حق تعالی د هغوی پټې خبرې راڅرګندې (راښکاره) کړې، او د هغوی د مدينې له رسېدلو څخه پخوا په لاره کې يې ورښکاره کړه چې ستاسې د صحيح او سالم ببرته راتللو په نسبت به دا خلق د خپلې غير حاضرۍ راز راز دروغ او عذرونه ووايي، او ډول ډول هيلې بهانې پلمې به جوړوي، او وايي به چې: مونږ د خپل کور او کهول له چارو څخه نه وو وزګار، يا مو څوک په کورونو کې نه وو چې وروسته له مونږ څخه د مال، اسباب، اهل او عيال سرپرستي وکړي، په هر حال له مونږ څخه لوی قصور شوی دی، اوس ته له الله تعالی څخه ځمونږ مغفرت او بښنه وغواړه.

يَقُولُونَ بِأَلْسِنَتِهِمْ مَا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ ۚ

وايي دغه (پاتې کيدونکي منافقان) په ژبو خپلو سره هغه (خبرې) چې نشته په زړونو د دوی کې.

تفسير: پخپلو زړونو کې پوهيږي چې دا عُذر بيخي غلط دی، او استغفار او د بښنې غوښتل هم يو ظاهر داري ده، او ربښتيا او له زړه نه ده، ځکه چې دوی نه دا کومه ګناه ګڼي، او نه په داسې څه اعتقاد لري.

قُلْ فَمَنْ يَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا إِنْ أَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا ۚ بَلْ كَانَ اللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١١﴾

ووايه ته (ای محمده ! دوی ته) نو څوک دی چې مالک به شي تاسې لره په دفع د عذاب کې د جانبه د الله څخه د يو څيز که الله اراده وفرمايي ستاسې د ضرر او نقصان؟ يا الله تعالی اراده وفرمايي ستاسو د نفع او ګټې؟ (بل هيڅوک نشته چې ضرر او نفع يې په قدرت کې وي)، بلکه دی الله په هغو ګردو کارونو چې کوئ يې تاسې ښه خبردار.

تفسير: هر راز ګټه (فائده) او نقصان د الله تعالی په لاس کې دی، د هغه د ارادې او مشيت په مخامخ کې هيڅوک هيڅ شی نشي کولی، الله تعالی پخوا د تاسې له دې دروغو، حيلو او عذرونو ويلو څخه خبر راکړی دی، او ستاسې حال

او احوال يې ماته را څرګند (راښکاره) کړي دي، او اراده يې فرمايلې ده، چې ستاسې د دې ناوړه (ګنده) اعمالو او حرکاتو په سبب تاسې د حُديبيې د غزوې له راز راز برکاتو او ګټو څخه بې برخې کړي، او تاسې ته له دې درکه نقصان او خساره ورسوي، که تاسې وايئ چې: مونږ د مال، اولاد، کور او کهول لامله په دې غزوې کې شرکت ونه کړ؛ نو که الله وغواړي چې ستاسې مال، اولاد، کور او کهول ته ستاسې په حضور کې څه زيان او ضرر ورسوي؛ نو ستاسې له لاسه څه کېدی شي؟ يا فرض کړئ: که الله تعالی تاسې يا د تاسې اهل او عيال او مال ته کومه ګټه (فائده) رسوي؛ نو ستاسې نشتوالی او مسافرت د هغې مانع کېدی نشي، او هرومرو يې دررسوي، نو د الله او د هغه د رسول د خوښۍ په مقابل کې داسې خبرې ته ځير کېدل او د داسې شيانو پروا کول پرته (علاوه) له حماقت او ضلالت څخه بل شی نه دی، او داسې فکر هم مه کوئ چې په پلمو (تدبيرونو)، حيلو، بهانو او خبرو سره به د الله تعالی او د رسول صلی الله عليه وسلم خوښي حاصله کړئ، او په دې ښه پوه شئ چې الله تعالی ستاسو په ګردو خبرو اترو او پلمو خبردار دی.

بَلْ ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّنْقَلِبَ الرَّسُوْلُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ اِلٰٓى اَهْلِيْهِمْ اَبَدًا وَّزُيِّنَ ذٰلِكَ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَظَنَنْتُمْ ظَنَّ السَّوْءِ ۖ وَكُنْتُمْ قَوْمًۢا بُوْرًا ﴿۱۲﴾

(دا عذرونه او بهانې چې تاسې کوئ داسې نه ده) بلکه ګمان به کاوه تاسې (ای متخلّفينو) چې بيا به له سره ببرته راونه ګرځي رسول الله او مؤمنان (له حُديبيې نه) کورونو خپلو ته هيڅکله، او ښايسته کړی شوی دی دغه (ګمان د تباهۍ د مؤمنانو) په زړونو ستاسې کې (ای منافقانو)، او ګمان کړی وو تاسې ګمان بد شوی (په علم د الله کې)، او وئ تاسې يو قوم هلاک کړی شوی.

تفسير: په ربښتيا سره ستاسې د نه ورتګ سبب دا خبرې نه دي چې تاسې يې وايئ، بلکه ستاسې ګمان داسې وو چې اوس پيغمبر او د هغه ملګري له دې سفره په روغ صورت ببرته راونه ګرځي، دا ستاسې د زړه ټينګه خبره وه، چې دا ګمان مو بيخي غلط او چټي (بيکاره) ثابت شو، نو ځکه تاسې خپل حفاظت او ګټې د جلا اوسېدلو په صورت کې سنجولې وې، او حال دا دی چې په دې صورت کې ستاسې خُسران او تباهي وه، او الله تعالی ته ښه معلوم وه چې تاسې تباه او برباد کېدونکي يئ.

وَمَنْ لَّمْ يُؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ فَاِنَّآ اَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ سَعِيْرًا ﴿۱۳﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَاۗءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۴﴾

او هر هغه چې ايمان يې نه وي راوړی په الله او په رسول د دغه (الله)؛ نو بېشکه مونږ تيار کړی دی مونږ کافرانو ته تود اور (د دوزخ). او خاص الله لره دی سلطنت او باچايي د اسمانونو او د ځمکې (ملکا خلقًا وعبيدًا)، بښي هر هغه چې اراده وفرمايي (د مغفرت يې)، او په عذاب کې اچوي هر هغه چې اراده وفرمايي (د عذاب يې)، او همېشه دی الله ډېر ښه بښونکی (د خطيّاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: هغه څوک چې د الله تعالی اراده د هغه بښنې ته نه وي تللې؛ نو زه يې څرنګه بښنه وغواړم، هو ! که الله تعالی مهرباني پر تاسې باندې وفرمايي؛ نو تاسې ته توفيق درکوي چې توبه وکاږئ، او د هغه بښنه ځان ته وګټئ، د هغه رحمت په هر حال کې د هغه په غضب باندې سابق دی.

سَيَقُوْلُ الْمُخَلَّفُوْنَ اِذَا انْطَلَقْتُمْ اِلٰى مَغَانِمَ لِتَاْخُذُوْهَا ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ ۚ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّبَدِّلُوْا كَلٰمَ اللّٰهِ ۭ قُلْ لَّنْ تَتَّبِعُوْنَا كَذٰلِكُمْ قَالَ اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ ۚ

ژر به ووايي (تاته) وروسته پاتې کيدونکي (خلق) کله چې روان شئ تاسې غنيمتونو (د خيبر ته) (لپاره د دې) چې واخلئ تاسې هغه (غنائم) ! پرېږدئ مونږ چې درځو په تاسې پسې (لپاره د جنګ او غنيمت)، اراده لري دوی چې بدلې کړي دوی د الله خبرې، ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې له سره به متابعت ونه کړئ تاسې ځمونږ، همداسې فرمايلي وو الله پخوا له دې څخه.

تفسير: د حُديبيې له راتګ څخه وروسته رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ته امر ورسېد، چې پر (خيبر) باندې برید او تعرض وکړي !، چې هلته هغه غدّاران يهودان اوسېدل، چې د (احزاب) په غزا کې يې کافرانو ته د مدينې لارښوونه کړې وه، حق تعالی خپل رسول ته خبر ورکړ چې هغه صحرائيان چې حُديبيې ته نه وو تللي؛ اوس به د (خيبر) په غزا کې له تاسې سره د ورتګ غوښتنه وکړي، ځکه چې هلته وېره لږه او د ولجې (غنيمت) هيلې ډېرې دي، تاسې هغوی ته ووايئ چې: ستاسې له دې غوښتنې څخه لا پخوا ماته الله تعالی ستاسې په نسبت هدايت راکړی، دا چې تاسې په دې سفر کې هم هر ګز نشئ تلی، نو آيا په دې صُورت کې به تاسې له مونږ سره تلی شئ؟ که ځئ نو د دې تګ معنا به دا وي چې د الله تعالی خبره بدله شوې ده، حال دا چې د الله تعالی احکام هيڅکله بدليدونکي نه دي.

فَسَيَقُوْلُوْنَ بَلْ تَحْسُدُوْنَنَا ۭ

بيا به ژر ووايي چې حسد او کينه کوئ تاسې له مونږه سره (په ګټه ځمونږ کې ای مؤمنانو !).

تفسير: الله تعالی هيڅ نه دي فرمايلي، تاسې محض دا غواړئ چې مونږ ته څه ګټه ونه رسيږي، او د غنيمت مال يواځې تاسې ته پاتې دی.

بَلْ كَانُوْا لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝۱۵

(داسې نه ده) بلکه وو دوی چې نه به پوهېدل (له دين د اسلام نه) مګر خو لږ څه.

تفسير: ډېره لږه پوهـه لري، او دا ناپوهان په دې نه پوهيږي چې د مسلمانانو د زُهد او د قناعت مرتبه دومره لوړه ده، چې هغوی هيڅ دنيوي ګټو ته نه ګوري.

قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ اُولِيْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ تُقَاتِلُوْنَهُمْ اَوْ يُسْلِمُوْنَ ۚ فَاِنْ تُطِيْعُوْا يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ اَجْرًا حَسَنًا ۚ

ووايه (ای محمده !) وروسته پاتې کېدونکيو ته له صحرائي خلقو: ژر ده چې راوبه بللی شئ تاسې طرف د جنګ د يوه قوم ته چې خاوندان د جنګ سخت وي، يا به جنګ کوئ تاسې له هغو سره (چې ايمان يې نه راووړ)، يا به مسلمانيږي هغوی؛ نو بيا که امر ومنئ تاسې د دغو بلونکيو دربه کړي تاسې ته الله اجر ثواب ښه (چې عزّت او غنيمت دی په دنيا کې، جنّت او رؤيت دی په عُقبا کې).

تفسير: لږ څه صبر وکړئ، دې غزا ته نشئ تلی، خو وروسته له دې نه نورې جګړې ډېرې راتلونکي دي، او د خورا سختو جنګيالیو قومونو سره به د مسلمانانو جنګونه پيښيدونکي وي، او د هغه سلسله به تر هغه پورې اوږديږي تر څو

هغه اقوام يا د اسلام په دين مشرّف شي، يا جزيه ورکړي، او ځان مطيع الاسلام وشمېري، که په رښتيا سره تاسې د جهاد مينه لرئ؛ نو هلته د جهاد ډګر ته ننوځئ ! او خپل شجاعت مېرانه (بهادري) او توره راښکاره کړئ، که چې په هغه وخت کې د الله تعالى امر او حکم ومنئ؛ نو الله تعالى به خورا ښه بدل او جزاء تاسې ته درکړي.

تنبيه: له دې جنګيالیو قومونو څخه (بنو حنيفه) يا نور مراد دي، چې د کذّاب مسيلمه ټبر وو، يا (هوازن) يا (ثقيف) او نور دي، چې د حُنين په غزا کې له هغوی سره مقابله وشوه، يا به هغه مرتدّان وي چې له هغوی سره د ابوبکر الصدّيق رضي الله تعالى عنه په خلافت کې سخته جګړه پېښه شوه، يا به د پارس، روم، خراسان، پښتونخوا ځکه او نور هغه توريالي قومونه وي، چې د راشدو خلفاوو په وخت کې له هغوی سره سخت جنګونه ونښتل.

وَإِنْ تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِنْ قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٦﴾

او که وګرځېدئ تاسې لکه چې ګرځيدلي وئ پخوا له دې څخه؛ نو په عذاب به کړي (الله) تاسې په عذاب دردناک سره.

تفسير: لکه چې د حُديبيې له تګه ښېرته پاتې شوی، که په راتلونکي جګړې کې هم ښېرته پاتې شوی؛ نو الله تعالى تاسې ته ډېر درد لرونکی عذاب درکوي، او ښايي پخوا له آخرته په همدغه دنيا کې هم څه عذاب درورسېږي.

لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَنْ يَتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٧﴾

نشته پر راننده باندې هيڅ ګناه او تکليف، او نه په ګوډ باندې هيڅ ګناه او تکليف، او نه په ناروغ باندې هيڅ ګناه او تکليف (ځکه چې جهاد پر دغو معذورانو باندې فرض نه دی)، او هر هغه څوک چې اطاعت وکړي، حکم ومني د الله او د رسول د دغه (الله)؛ نو داخل به يې کړي (الله) دی په جنّتونو کې چې بهېږي له لاندې (د ونو او مانيو) د هغو (څلور قسمه) ويالې، او هر هغه څوک چې وګرځېد (له احکامو د الله)؛ نو (الله) به په عذاب کړي دی په عذاب ډېر دردناک سره.

تفسير: په ګردو امورو او معاملو کې عامه ضابطه همدا ده چې متخلّفين معذّب کړي.

لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ

خامخا راضي او خوښ شوی دی الله تعالى له مؤمنانو نه هغه وخت چې بيعت يې کاوه، له تا سره د لاندې د ونې.

تفسير: دا د «کيکر» ونه وه، غالبًا د ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ﴾ الآية ـ د فرمايلو له سببه دغه بيعت ته (بيعة الرضوان) وايي، چې د هغه مفصّله قصه د دې سورت په شروع کې تېره شوه.

فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ

بيا معلوم کړ (الله په ظاهري علم سره هم) هغه (اخلاص) چې په زړونو د دوی کې وو.

تفسير: د ظاهر اندېښنه او د زړه توکّل، حسن نيت، صدق، اخلاص اسلامي مينه او نور.

فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿١٨﴾ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا

بيا رابښكته كړه (الله) سكينه، او ډاډينه (سكون) پر دوى باندې، او عوض يې وركړ (الله) دوى ته برى نژدې (چې فتح د خيبر ده)، او ولجې (غنيمت) ډېرې چې وابه خلي دوى هغه (ولجې).

تفسير: مراد له فتحې نژدې څخه فتحه د خيبر ده، چې د حُديبيې له بېرته راتګ څخه سمدلاسه پېښه شوه، او زياتې ولجې (غنيمت) په لاس ورغلې، چې له هغو سره مجاهدين هوسا او خوښ شول.

وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٩﴾

او دى الله همېشه قوي غالب ډېر حكمت والا.

تفسير: الله تعالى په خپل زور او حكمت سره، د حُديبيې نقصانونه ! په دې ځاى كې تلافي او معاوضه كړل، او په فتحه د مكې معظّمې او حُنين كې همداسې تلافي او معاوضې په ظهور ورسېدې.

وَعَدَكُمُ اللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هَٰذِهِ

وعده كړې ده له تاسې سره الله د غنائمو او ولجو ډېرو چې وابه يې خلئ تاسې هغه نو (الله) ژر دركړل تاسې ته دا (غنائم او ولجې).

تفسير: وروسته به ډېرې ولجې او غنيمتونه دررسېدونكي وي، چې له هغو يو همدا د خيبر غزا ده، چې ستاسې برخه په دې كې دركړه شوه.

وَكَفَّ أَيْدِيَ النَّاسِ عَنكُمْ

او (الله) بند كړل لاسونه د خلقو له تاسې نه.

تفسير: عام جنګ در پېښ نه شو، او په حُديبيې او خيبر كې يې د كفّارو له لاسه تاسې ته څه ضرر او نقصان ونه رساوه، او ستاسې په نشتوالي كې هيڅا ستاسې اهل او عيال كور او كهول ته هم لاس ونه غځاوه.

وَلِتَكُونَ آيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ

او چې شي دا كار نښه (د قدرت د الله) لپاره د مؤمنانو.

تفسير: مسلمانان دې وپوهيږي چې د الله تعالى قدرت څرنګه دى؟ او د هغوى درجه د هغه په دربار كې كې څومره ده؟ او بل دا چې وروسته له دې څخه هم د هغه نورې ګردې وعدې همداسې پوره كېدونكې دي.

وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٢٠﴾

او الله ښيي تاسې ته لاره برابره.

تفسير: د الله تعالى پر وعدو باندې ډاډينه او د هغه د لا محدود قدرت پېژندنه او همغه ذات ته د ځان او د جهان سپارنه؛ د لا زيات اطاعت او حكم منلو ترغيب دركوي، چې همدا ده د توكّل برابره او سمه لاره.

وَّاُخْرٰى لَمْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهَا قَدْ اَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرًا ﴿۲۱﴾

او بل (يې درکړي دي تاسو ته غنيمتونه او بری) چې لا نه وی قادر تاسې په هغو (غنيمتونو) باندې، په تحقيق (علمي) احاطه کړېده الله په هغو (غنائمو) باندې هم، او دی الله تعالی پر هر شي باندې ښه قادر او توانا.

تفسير: د دې بيعت په انعام کې يې د خيبر فتح درکړه، او د مکې شريفې فتحې چې په هغه وخت کې په لاس درنغله، وروسته له دې څخه به په لاس درشي، ځکه چې الله د هغه وعده کړې ده، چې په حقيقت او عالم اسباب کې همدا د حُديبيې صلح د مکې شريفې د فتحې مقدمه او توطئه ده.

وَلَوْ قٰتَلَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۲۲﴾

او که جنګ وکړي له تاسې سره هغه کسان چې کافران شوي وو؛ نو خامخا به يې ګرځولې وې شاوې خپلې، بيا به يې نه وو موندلي څوک دوست ساتونکی او نه مددګار.

تفسير: که جنګ پېښېده؛ نو بری به ستاسې وو، او کافرانو به شا اړوله، او تښتېدل به، او مدد کوونکيو به دوی له آفته نه شو ژغورلی، خو د الله تعالی د حکمت داسې اقتضاء وشوه، چې سمدلاسه روغه وشي، او د روغې د عظيم الشأنو ثمرو څخه مسلمانان مستفيد او ګټور شي.

سُنَّةَ اللّٰهِ الَّتِىْ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾

(طريقه ايښې ده الله د غالبېدو د حق) په طريقې هغې سره چې په تحقيق سره تېره شوې ده پخوا له دې نه، او هيڅ کله به نه مومې ته طريقې د الله لره تبديل او اوښتل.

تفسير: کله چې د اهل الحق او د اهل الباطل په منځ کې په کومه فيصله کوونکي موقع کې سره مقابل وشي؛ نو په دغې مقابلې کې به بالآخر اهل الکتاب غالب او اهل الباطل مغلوب او مقهوريږي، د الله همدا عادت له پخوا راهيسې جاري دی، چې هيڅ تغيير او تبديل په کې پېښېدونکی نه دی، هو ! دومره شرط په کې شته چې اهل الحق په هيئت مجموعي سره په پوره حق منلو باندې ټينګ ولاړ دی.

وَهُوَ الَّذِىْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْۢ بَعْدِ اَنْ اَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ؕ

او دغه (الله) هغه (ذات دی) چې بند يې کړل لاسونه د هغو (کُفّارو) له تاسې څخه، او لاسونه ستاسې له هغوی څخه په منځ د مکې کې پس له هغې څخه چې غالب يې کړئ تاسې په هغوی باندې.

تفسير: د مشرکانو څو ډلې حُديبيې ته راغلې وې، چې که لاس يې بر شي؛ رسول اکرم صلی الله عليه وسلم په شهادت ورسوي، يا يو نيم مسلمان ګوښې ګېر کړي، او ويې ربړي، لکه چې داسې څو پېښې هم راپېښې شوې، او په دې منځ کې يو مسلمان هم په شهادت ورسېد، چې خبرې او د جنګ د اور د بلېدلو هم وشوې، تر دې چې اصحاب کرامو رضي الله تعالی عنهم أجمعين هغه قاتل ونيو، او د رسول أکرم صلی الله عليه وسلم حضور ته يې وړاندې کړ، او رسول الله د هغه د انتقام څخه سترګې پټې کړې، او ويې بښه، په دې آيت کې د همدغو واقعاتو په لوري اشارې دي، او (ببطن مکة) د مکې د ښار له منځ څخه مقصد د ښار هغه نژدې منطقه ده، چې له ډېره نژديوالي څخه داسې ښکاري لکه مځکه د حرم، او يا مابين د ښار.

وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ﴿۲۴﴾

او دی الله په هغه څخه چې کوئ يې تاسې ښه ليدونکی.

تفسير: الله تعالی ته د کفّارو شرارتونه او ستاسې عفو او تحمّل ښه معلوم دی، او ويني يې، نو جزا به پرې درکړي.

هُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ مَعْكُوْفًا اَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ ؕ

دوی هغه کسان دي چې کافران شوي دي، او منع کړي يې وئ تاسې له مسجد الحرام څخه، او (منعه کړې يې وې) قربانی د تاسې په دې حال کې چې بندې کړی شوې وې له دې نه چې ورسيږي ځای د حلالولو خپلو ته.

تفسير: د حرم تر هغې برخې پورې يې د قربانی حيوانات پرېښودل چې هلته يې بوځئ، او په مشروعه طريقه سره يې ذبح کړئ، او همالته په حُديبيې کې بند پاتې شول.

وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ اَنْ تَطَـُٔوْهُمْ فَتُصِيْبَكُمْ مِّنْهُمْ مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ لِيُدْخِلَ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۚ

که چېرې نه وئ (پټ په کُفارو کې) څو سړي ايمان راوړونکي، او څو ښځې ايمان راوړونکې چې نه پېژندل تاسې هغوی لره (په صفت د ايمان سره) دا خطره چې پايمال کړي وو تاسې هغوی (هم سره له کُفّارو)، پس رسېدلی به وو تاسې ته له هغوی څخه څه ضرر او غم په ناپوهی سره (نو د جهاد حکم به يې درکړی وې، ليکن حکم يې در نه کړ) لپاره د دې چې داخل کړي الله په رحمت خپل کې هر هغه چې اراده وفرمايي (د داخلولو يې).

تفسير: هغه مسلمانان نارينه او ښځې چې په مکې کې مظلوم او مقهور اوسېدل، او د مدينې منورې مسلمانانو له هغوی سره پوره پېژندګلو نه درلوده، هغوی به په جنګ کې د ناپوهی په سبب پايمال او لتاړ کېدل، که دا وېره نه وی؛ نو سمدلاسه به د جنګ کولو امر کېده، خو که داسې امر صادر ېدی؛ نو تاسې به په دې قومي نقصان باندې متأسف او خپه کېدی، او کافرانو ته به د داسې ويناوو موقع په لاس ورتله چې: «وګورئ ! مسلمان د خپل مسلمان پت هم نه ساتي»، نو ځکه مو جنګ منع کړ، تر څو هغه مسلمانان محفوظ او ساتلي پاتې وي، او پر تاسې باندې د دې بېمثاله صبر او تحمّل له سببه الله جل جلاله خپل رحمت وورووي، او له دې کافرانو څخه هغه سړي چې د هغو مسلمان کېدل مقرّر او مقدّر دي؛ ښايي په دې خطرناکې جګړې کې له لاسه ونه وځي، او د الله تعالی په رحمت کې پخپلې نېټې داخل شي.

لَوْ تَزَيَّلُوْا لَعَذَّبْنَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۲۵﴾

که چېرې جلا (جدا) شوي وی دغه (مسلمانان له کفّارو نه)؛ نو خامخا به مو په عذاب کړي وو هغه کسان چې کافران شوي دي له دغو (اهل د مکې) څخه په عذاب ډېر دردناک سره.

تفسير: که مسلمانان له کافرانو څخ جلا اوسېدی، او مسلمانان له هغوی سره داسې ګډوډ نه وی پراته؛ نو تاسې به کتل چې مونږ کافرانو ته د مسلمانانو په لاس څومره خوږوونکې سزاوې ورکولې.

إِذْ جَعَلَ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ

کله چې ګرځولی وو هغو کسانو چې کافران شوي وو په زړونو خپلو کې ننګ هسې ننګ چې د جاهلیت ناپوهي وه؛ نو رابنکته کړه الله ډاډینه او اطمینان خپل پر رسول خپل او پر مؤمنانو باندې.

تفسیر: د ناپوهی ضد دا دی چې سږ کال عمره ونه کړئ، هغه مسلمانان چې له مکې څخه هجرت کوي؛ هغوی ببرته رالیږي، کال ته دې عمرې ته راشي، او زیات له دریو ورځو څخه به په مکه کې نه اوسي، علاوه پر دې وسلې له خپله ځانه سره ونه لري، په روغلیک کې «بسم الله الرحمن الرحیم» مه لیکئ !، د «محمد رسول الله» په ځای یوائې «محمد بن عبد الله» ولیکئ، رسول أکرم دا ګردې خبرې ومنلې، او اصحابو سره د سخت انقباض او اضطرابه د پیغمبر له ارشاد سره سم دېته غاړه کښوولې، او په پای کې په همدې فیصلې باندې د هغوی زړونه مطمئن شول.

وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوَىٰ وَكَانُوا أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا ۚ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٢٦﴾

او ټینګه لازمه یې کړله هغوی لره کلمه د تقوی (د توحید کلمه)، او وو دوی ښه لایق وړ له دغه سره، او اهل د دې (کلمې د تقوی)، او دی الله تعالی په هر شي باندې ښه پوه.

تفسیر: له الله تعالی وویرېږي، او د نافرمانی له لارې څخه ځان وژغوري، او د کعبې په ادب باندې په مضبوطی سره ټینګ واوسي، او ولې به نه اوسي چې تاسې په دنیا کې د واحد الله تعالی رښتین منونکي او د (لا إله إلا الله، محمد رسول الله) زبردست قایلان عاملان او حاملان یئ، او د یوه پوخ او موحّد پیغمبر محمد رسولُ الله صلی الله علیه وسلم مطیع او وفادار امّتیان یئ، او خپل جذبات او رُجحانات مو په جوش کې د الله جلّ جلاله په خوښی او د هغه د شعائرو په تعظیم کې جار کړي دي، حقیقي توحید همدا دی چې سږی دهغه واحد الله تعالی اوامر او احکام واوري، او د خپل عزّت او د ذلّت خبرې د هغه په مخکښې یوې خوا ته کېږدي، ښایي د همدې لامله په حدیث کې د (کلمة التقوی) تفسیر: په ﴿لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ﴾ سره شوی دی، ولې چې زیاتره د طهارت او د تقوی اساس همدا پاکه کلمه ده، چې د دې د منلو او د حق د اداء کولو لپاره الله تعالی د رسول أکرم أصحاب غوره کړي وو، او بېشکه همدوی د الله تعالی په علم کې د دې خبرې اهل او مستحقّ هم وو.

لَقَدْ صَدَقَ اللَّهُ رَسُولَهُ الرُّؤْيَا بِالْحَقِّ ۖ لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ آمِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ ۖ

خامخا په تحقیق رښتیا ښودلی دی الله رسول خپل ته خوب د ده په حقه او رښتیا سره، چې خامخا به داخل شئ تاسې مسجد حرام ته که اراده وفرمایي الله په امن او آرام سره، حال دا چې خریونکي به وی د سرونو خپلو، او لنډوونکي به وی (د ویښتو خپلو)، او نه به ویرېږئ تاسې (له هیڅا هیڅېرې).

تفسیر: د دې سُورت په ابتداء کې ذکر شوی دی، چې په مدینې منوّرې کې رسول أکرم صلی الله علیه وآله وسلم خوب ولید، چې مونږ په مکّې کې داخل شوي یو، سر خریلي او ویښتان پریکړي، له احرامه وتلي، حلال شوي یو، لکه چې د حُدیبیې له کال څخه وروسته همداسې هم وشو، په دې آیت کې یې همدا فرمایلي دي چې په تحقیق سره

الله خپل رسول ته رښتيا خوب ورليدلی وو، پاتې شو د (إن شاء الله) فرمايل، د «ابن كثير» په نزد دا (إن شاء الله) د تحقيق او توكيد لپاره ده، (سيبويه) وايي: په داسې ځايونو كې چې د يوه شي په قطعي ډول سره ورښوول د ځينو مصلحتونو له مخې مقصود نه وي، او كول يې منظور وي؛ داسې عنوان غوره كاوه شي، يا محض لپاره د تبرّك الله تعالى (إن شاء الله) فرمايلي دي، يا لپاره د تعليم د بندګانو خپلو يې فرمايلي دي، يعنې هر مؤمن لره مناسب دي چې د راتلونكو كارونو په نسبت «إن شاء الله» ووايي.

فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا فَجَعَلَ مِنْ دُونِ ذٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿٢٧﴾

نو معلوم دي الله ته (فوائد د دغې صلحې) هغه څه چې نه پوهېدئ تاسې؛ نو ويې ګرځوله پخوا له دغه داخلېدو دمكې نه فتحه او برى نژدې.

تفسير: بيا الله تعالى له خپل محيط علم سره سم د واقعاتو سلسله قائمه كړه، الله تعالى ته دغه خبره معلومه وه، چې د خُوب د تعبير په ښكاره كولو كې وروسته له يوه كال څخه څومره ګټې او مصالح دي، چې عام خلق پرې نه دي خبر، نو ځكه يې د خوب د تعبير وقوع بل كال ته وځنډوله (ايساره كړه)، او د هغه له وقوع څخه يې پخوا تاسې ته سمدلاسه يو بل برى دروبانبه، يعنې د خيبر برى يا د حُديبيې روغه چې هغې ته اصحاب الكرام رضي الله تعالى عنهم أجمعين (فتح مبين) ويله، لكه چې د دې سُورت په اول كې ځمونږ په دى تفسير كې د دې خبرې تفصيلات ليكلى شوي دي.

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدٰى وَدِينِ الْحَقِّ

دغه (الله) هغه ذات دى چې رالېږلى يې دى رسول خپل په (ښوونه د) سمې لارې او دين حق سره (چې دين د اسلام دى).

تفسير: د اصولو او فروعو او عقائدو او احكامو په اعتبار دا دين رښتيا دى، او همدا سمه لاره ده چې محمد صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم راوړې ده.

لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ

لپاره د دې چې غلبه ورکړي (پورته کړي هغه دين) پر دينونو ټولو باندې.

تفسير: الله تعالى دا دين په ښكاره ډول تر سلهاوو كلونو پورې پر ګردو مذاهبو باندې غالب كړى دى، او مسلمانانو تر څو پېړيو پورې په ټول بشريت باندې حكومت او تسلّط درلود، او په راتلونكې زمانې كې د دنيا له ختمېدو سره نژدې همداسې يو وخت راتلونكى دى، چې په هر ځاى كې به د دې حق دين حكومت او تسلّط وي، د استدلال او حُجّت له مخې به هم د اسلام دين تل غالب وي، لكه چې اوس هم غالب دى.

وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا ﴿٢٨﴾

او كافي بس دى الله ښه شاهد (حق ثابت كوونكى).

تفسير: الله تعالى د دې دين په حقانيت باندې ګواه دى، او همغه ذات پخپل قدرت سره حق ثابت كوونكى دى، يا كافي بس دى، الله شاهد په وعدو خپلو يا په نُبوّت او رسالت د رسول خپل يعنې محمد صلى الله عليه وسلم لكه چې د دوى عالي شان په وروسته كې داسې بيانيږي.

مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ ۚ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ

محمد رسول او رالېږل شوی د الله دی (په حقه سره)، او هغه کسان چې له ده سره دي سختي کوونکي دي په کافرانو باندې.

تفسیر: دکافرانو په مقابل کې هسې سخت، مضبوط او قوي دي چې له هغو څخه ځکرد کافران ویریږي، او له کُفر څخه نفرت او بېزاري ښکاره کوي، لکه چې الله تعالی (د ۱۱ جزء د توبې د سورت په (۱۶) رکوع (۱۲۳) آیت کې) ﴿وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً﴾ فرمایلي دي: ، او همداسې (د «توبې» په لسمه رکوع (۷۳) آیت کې) ﴿وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ﴾، او د (۶ جزء د «مائدې» سورت په اتمه رکوع (۵۴) آیت کې) یې: ﴿أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ﴾ فرمایلي دي.

رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ

مهربانان او زړه سواندي دي پخپلو منځونو کې

تفسیر: دوی پخپلو منځونو کې یو تر بله ډېر شفقت او مهرباني کوي، یو په بل باندې د ضرورت په وخت کې سر ایږدي، له مال، ځان، اولاد ټولو نه ورته تیریږي.

تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا

وینې به ته هغوی، رکوع کوونکي او سجده کوونکي، غواړي دوی په دې عبادت سره فضل او مهرباني له الله تعالی نه، او غواړي رضامندي د هغه.

تفسیر: دا هغه خاص بندګان د الله تعالی دي، چې په ټولو عملونو کې خصوصًا په لمانځه کې چې یو لوی رُکن د اسلام دی، یواځې او یواځې اخلاص او عجز الله تعالی ته ښکاره کوي، مهرباني او رضا د هغه غواړي، هیڅ ریاکاري او نور باطل غرضونه د دوی په شان کې نه لیدل کیږي.

سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ۚ

نښې د دینداری د دوی ثابتې دي په مخونو د دوی کې له اثر د سجدو نه، یعنې هغه انوار چې په اوداسه، لمانځه او سجدې سره په وجود د بنده کې پیدا کیږي؛ هغه نورانیت د دوی په وجودونو کې له ورایه بریښي.

تفسیر: په اداء د لمانځه سره بنده ډېرو لوړو کمالاتو ته رسیږي، مشکلات د دنیا او د آخرت په لمانځه سره حل کېدی شي، خو په شرط د دې سره چې لمونځ کامل شي، اصحاب د أحمد صلی الله علیه وسلم اولین اشخاص دي چې دوی لمونځ کمال ته رسولی وو، نو ځکه الله تعالی د دوی صفت په قرآن کې بیانوي، اثر د نورانیت یې په سجدې سره د دې لپاره خاص ذکر کړی چې په سجده نه کولو سره شیطان له درباره د رحمت نه ورټل شو، او انسان به د همدې سجدې له لارې لوړو (اوچتو) کمالاتو ته رسیږي، د اووم اسمان ملائکې د پیدایښت د وخته نه تر پو کولو د شپېلی د اسرافیل علیه السلام پورې په سجده پرتې دي، دا د سجدې په اهمیت او کمال بندګی ښایي.

ذَٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ ۚ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنجِيلِ ۚ

دا اوصاف هغه اوصاف دي، چې مثالونه یې په تورات کې بیان شوي دي، او دا هغه اوصاف دي چې مثالونه یې په انجیل کې بیان شوي دي.

تفسير: د اصحابو د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم د فضائلو او د كمالاتو بيان په نورو اسماني كتابونو كې هم راغلى دى، همدا وجه ده چې ډېرو پوهانو له اهل د كتاب نه چې تنګ نظري نه درلوده، اصحاب كرام به يې چې وليدل؛ نو به يې سمدلاسه تصديق كاوه، چې دوى په مثل د حواريونو د مسيح عليه السلام غوندې ښكاري.

كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْـَٔهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ

لكه هغه كښت (فصل) چې راوباسي څانګې خپلې، بيا يې ملا خپله ټينګه كړي، بيا كلكه شي دغه څانګه، بيا ودريږي دغه كښت (فصل) پس له ضعيفى او نرمى نه په پنډيو او ببخونو خپلو باندې.

تفسير: الله تعالى صحابه په تقويه د دين كې له كښت (فصل) او زراعت سره تشبيه كوي، يعنې لكه څنګه چې كښت او زراعت په څلورو مراحلو او مراتبو سره ثمر او پخوالي ته رسيږي؛ همدارنګه اصحابو خصوصًا راشدو خلفاوو پخپلو دورو د خلافت كې دين د اسلام يې درجه په درجه ثمر او پخوالي ته ورساوه، كه د دوى مقام علمي، مناقب او تاريخ د كارنامو ولټول شي، دا څلور كلمې د دوى له كارنامو سره په ابلغه وجه سره داسې تشبيه كېدى شي، ﴿اَخْرَجَ شَطْـَٔهٗ﴾ دوره د صدّيق، ﴿فَاٰزَرَهٗ﴾ دوره د فاروق، ﴿فَاسْتَغْلَظَ﴾ دوره د ذي نورين، ﴿فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ﴾ دوره د اسد الله !؛ دوى هغه برجسته او غيور شخصيتونه دي، چې په كارنامو خپلو سره يې تاريخ د بشريت او د اسلاميت د همېش لپاره روښانه او ژوندى ساتلى دى.

يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ

په داسې حال كې چې قوّت د دې كښت (فصل) په تعجّب كې اچوي (خوشحالوي) بزګران (زميدار).

تفسير: تشبيه د اصحابو له بزګرانو (زميدارو) سره په تدبير او غيرت كې، او تشبيه د دين د اسلام له كښت سره په قوّت او كثرت كې؛ ډېره ابلغه او مناسبه تشبيه ده، يعنې لكه څنګه چې اصحاب كرام په صدر اسلام كې ډېر كم او په يوه حالت د غربت او ناتوانى كې وو، خو وروسته ډېر قوّت او كثرت ته ورسېدل، حتى چې د نړۍ په ډېره برخه باندې مسلّط شول، او همدارنګه دين د اسلام هم په يوه حالت د غربت او ناتوانى كې وو، خو وروسته وروسته په ډېر زر وخت كې داسې قوّت او شهامت ته ورسېد، چې ټول جهان د هغې پيروى ته مجبور شو، او خلق فوج فوج په دين د اسلام كې داخل شول.

لِيَغِيْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ

دا قوّت د دې لپاره دى چې په قهر راولي كُفّار.

تفسير: اسلام په دې قوّت او رونق سره، د كفارو په زړونو كې د حسد او كينې اورونه بلوي، چې دا كار پخپل ذات كې د دوى په زړونو او فكرونو كې لويه فتنه او مرض ګرځي.

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾

وعده كړې ده الله تعالى له هغو كسانو سره چې ايمان يې راوړى، او عملونه نېك يې كړي دي، دوى لره د بښنې او د اجر ډېر لوى، چې (جنّت، لقاء او رضا د الله تعالى ده).

تفسير: دا وعده له هغو كسانو سره ده، چې ايمان لرونكي وي او نېه عملونه كوي، هغه څوك چې په داسې صفتونو موصوف وي، صحابه دي.

تمت سورة الفتح، ولله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الحُجُرَاتِ

«د (الحُجرات) سورت مدني دی، اتلس آيات او دوه رکوع لري»، په تلاوت کې (۴۹) او په نزول کې (۱۰۴) سورت دی، د (المجادلة) سورت څخه وروسته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللهِ وَرَسُولِهِ

ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی ! مه وړاندې کوئ مفکورې خپلې په مخکښې له صدوره د اوامرو د الله او د رسول د هغه، بلکه انتظار کوئ امر د هغوی لره.

تفسير: په کوم کار او فيصله کې چې د الله تعالی له طرفه او د رسول د هغه، له طرفه کومه اميدواري د اصدار د حکم لرئ؛ نو عجله مه کوئ چې پخپلې رايې او فکر سره ځکم وکړئ، بلکه انتظار وباسئ حکم د ذات احد لره، کله چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم ارشاد درته وفرمايي؛ نو په ډېر ښه سکوت او ادب سره د دوی مبارکو ارشاداتو ته غوږ ونيسئ، او په ډېر پاکې عقيدې سره يې قبول او په عمل کې يې پياده کړئ.

تنبيه: په انسانانو خصوصًا په مسلمانانو لازمه ده، چې اراء او افکار خپل په ټولو امورو کې !، تابع د اسلامي امورو وګرځوي، ځکه انسان په آراوو خپلو سره په ټولو امورو کې اعتماد نشي کولی، بلکه په سلو کې سل خطا کيږي او ناکاميږي، او پيروي د آراوو انسان له ټولو بدمرغيو او کړاوونو سره مخامخ کوي.

يوائې او يوائې اسلامي احکام دي، چې په ټولو لارو، چارو باندې سل په سلو کې ټيک وي، نو همدا وجه ده چې الله تعالی په مقابل د امر خپل او د رسول د هغې کې اختيار د بنده سلبوي، او فرمايي: ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ﴾.

که په دقّت سره څېړل وشي؛ ټولو ته په تجربه او مشاهده سره ثابتيږي، چې ټولې بدمرغی او کړاوونه بشريت ته، د پيروي د آراوو او خواهشاتو نه ورسيږي.

وَاتَّقُوا اللهَ إِنَّ اللهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ①

وويرېږئ له الله تعالی څنې هر وخت، الله تعالی اورېدونکی او ښه پوه دی.

تفسير: حقيقي فرمانبرداري د الله تعالی هغه ده، چې د زړه له کومې وي، او که په خوله ناري سوري د اسلام او اصلاح وهي، او په زړه کې يې نفاق او عمل يې هم د فساد وي؛ داسې رويه د هيڅا په درد نخوري.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ②

ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی ! مه پورته کوئ آوازونه خپل برسپره پر آواز د پيغمبر، او په لوړه مه پورته کوئ ده لره آواز په خبرو کې لکه په لوړ آواز خبرې د بعضو د

تاسو له بعضو نورو سره، له جهته د وېرې د دې چې ضايع به شي عملونه د تاسې، او تاسې به پرې خبر نه يئ.

تفسير: د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مجلس کې به په داسې شور او غوغا سره غږېدل، لکه چې پخپلو منځونو کې به په هغې سره غږېدل، چې دا کار په داسې عالي حضور کې ډېره لويه بې احترامي او بې ادبي ده، او په بې ادبۍ سره انسان له لطف د رب او د رسول او د هر حضور عالیه ځنې محروم پاتې کيږي، په ادب سره مقام د انسان له ملائکو ځنې پورته کيږي، او په بې ادبۍ سره مقام له خاورو سره خاورې کيږي.

صالح اولاد په مقابل د مور او پلار، صالح شاګرد په مقابل د استاذ، صالح مأمور په مقابل د آمر کې ځومره ادب ساتي، نو تر ټولو نه چې مهمتر او اول تر ادب وساتل شي، په مقابل د محمد صلى الله عليه وسلم کې دی، ځکه د هغوی مقام تر هر څه نه عالي او لوړ دی، که لږځه تغییر په فکر د رسول الله صلى الله عليه وسلم کې پېښ شي ! ډېر خطر د دې شته چې عملونه ستاسې هبت او ضايع شي، او تاسې به پرې خبر هم نه يئ.

إِنَّ الَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَاتَهُمْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَىٰ

بيشکه هر هغه کسان چې ټيټوي آوازونه خپل په نزد د رسول الله دا ډله هغه کسان دي چې ازمويلي دي الله تعالى جلّ جلالُه زړونه د دوی لپاره د پرهېزګارۍ او وېرې له ده ځنې.

تفسير: هغه ځوک چې د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم په مجلس کې په تواضع او ادب سره خبرې کوي، او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په مقابل کې آوازونه خپل نه پورته کوي؛ دوی هغه کسان دي چې الله تعالى جلّ جلالُه د دوی زړونه د تقوی او پرهېزګارۍ لپاره آماده کړي، يعنې خپل الهي توفيق يې له دوی سره ملګری کړی دی.

لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ

دوی لره ده بخښنه، عوض او ثواب لوی.

تفسير: کله چې دوی په ډېر اخلاص او غيرت سره د شعائر الله احترام ساتي، او له رحمت للعالمين سره ډېر احترام او ادب ساتي، نو که کله وخت له دوی نه څه کوتاهي او خطا پېښيږي، الله تعالى ډېر مهربان دی د دوی ګناهونه بښي، او لوی اجرونه ورته نصيب کوي.

إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ۝ وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتَّىٰ تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ

بيشکه هغه کسان چې چيغې وهي تا لره، د کورونو د أمّهات المؤمنيونو نه له هغه خوا؛ اکثر د دوی عقل نه لري، که چېرې دوی صبر کړی وی تر هغو پورې چې راوتلی وې ته دوی ته؛ نو دا صبر به په خير تمامېده دوی لره، او الله تعالى جلّ جلالُه ډېر بښونکی او مهربان دی.

تفسير: د بني تميمو قوم د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم د ليدلو لپاره مدينې منورې ته راغلل، او رسول الله صلى الله عليه وسلم په کور کې تشريف درلود، دوی د بيرون نه ورته چغې وهلې: ای محمده ! راووځه !، دا د دې نه وه چې دوی پوهه نه درلوده، او ايجابات اخلاقي يې نه مراعات کول، محمد صلى الله عليه وسلم يې يو عادي شخص فکر کاوه، حال دا چې محمد صلى الله عليه وسلم عالي شخصيت دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْٓا اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًاۢ بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ ۝۶

ای هغو کسانو چې تاسو ایمان راوړی !، که چېرې راتګ وکړ تاسو لره فاسق او بدکار په یوه خبره سره؛ نو تاسو ښه تحقیق په کې وکړئ !، له جهته د وېرې د دې چې وبه رسوئ تاسو یوه قوم لره ضرر اوتاوان په ناپوهی سره، نو پس وبه ګرځئ تاسو په هغه څه سره چې مو عمل کړی دی؛ خفه او پښېمانه.

تفسیر: ټولې شخړې او جګړې، بغض او عداوت، انسان ته د دروغو له لارې پیښیږي، نو له دې خاطره الله تعالی جلّ جلالُه بندګانو خپلو ته ارشاد فرمایي: که چېرې تاسو ته کوم بدکاره انسان په کومه موضوع کې خبر درکوي !، تاسو په هغې که ډېر فکر وکړئ، حق او باطل، رښتیا او دروغ یې ښه ځان ته ثابت کړئ، وروسته له هغې څخه په حل د موضوعاتو باندې اقدام وکړئ، لپاره د دې چې په احساساتو او تنګ نظرۍ سره مو کومه خرابي او ضرر رسولی وي؛ بیا یې جبیره مشکله او پښېماني یې هم څه په درد نخوري، چې په دې صورت کې به ظلم برقرار او عدالت نړېدلی وي، او حال دا چې انسان باید عدالت برقرار کړي، او د ظلم ریښې له بیخ څخه وباسي.

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ فِيْكُمْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ؕ لَوْ يُطِيْعُكُمْ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنَ الْاَمْرِ لَعَنِتُّمْ

او پوه شئ تاسې چې په منځ ستاسې کې رسول د الله دی (نو مه وایئ دروغ) که چېرې پیروي وکړي رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسې لره په ډېرو امورو کې چې هغه خلاف د واقعیت او حقیقت وي؛ نو خامخا به تاسې په مشقت او ګناه کې لویدئ.

تفسیر: که رسول الله صلی الله علیه وسلم دکوم سړي پر رای او غوښتنې باندې عمل ونه کړي؛ نو تاسې مه خپه کېږئ ځکه چې حق د خلقو د غوښتنو یا د یوه او د بل د رایې نه تابع کیږي، که داسې وشي؛ نو د ځمکې او د اسمانونو ګردې کارخانې سره خرابیږی.

وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ ۝۷ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً ؕ

لیکن الله تعالی جلّ جلالُه دوست او محبوب ګرځولی دی تاسې ته ایمان او ښایسته کړی یې دی دغه (ایمان) په زړونو ستاسې کې، او بد او منفور یې ګرځولی دی تاسو لره کفر، فسق، او نافرماني له اوامرو د الله تعالی نه، (هغه تحقیق کوونکي په خبرونو کې) همدوی دي ثابت په دین حق باندې. له جهته د فضله له طرفه د الله نه، او د نعمت د ده له طرفه.

تفسیر: که تاسې دا غواړئ چې محمد صلی الله علیه وسلم ستاسې هره خبره ومني؛ نو خورا زیات مشکلات به پیښیږي، خو د الله تعالی شکر وکړئ چې هغه د خپل فضل او احسان په واسطه د قانتینو مؤمنانو په زړونو کې ایمان محبوب ګرځولی دی، او د کُفر او معصیت نفرت یې په کې اچولی دی، چې د هسې بې هودګیو په شاوخوا کې نه نژدې کیږي، په هغې مجتمع کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف ولري، په هغې کې د بل چا د رایو او فکرونو منل چې پرته له منلو د هغه څخه وي؛ نشي کېدی، او نه ښایي چې وشي، نن اګر که رسول الله صلی الله علیه وسلم ځمونږ په منځ کې تشریف نه لري، مګر د هغوی پاک شریعت او د هغو وارثان او نائبان شته، او تل به وي.

وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٨﴾

او الله تعالی ښه عالم ښه حکمت والا دی.

تفسیر: الله تعالی ته د ګردو استعداد ښه معلوم دی، او هر یوه ته پخپل حکمت سره هغه احوال او مقامات فرمایي، چې د هغه استعداد د ده په ځان کې وي.

وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا ۖ فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَىٰ فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّىٰ تَفِيءَ إِلَىٰ أَمْرِ اللَّهِ ۚ فَإِن فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا ۖ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴿٩﴾

که چېرې دوه ډلې د مؤمنانو (پخپلو منځونو کې) سره په جنګ او جګړه کې ولوېږي؛ پس روغه او صلحه وکړئ (ای نورو مؤمنانو) په منځ د هغو دواړو جنګ کوونکیو کې په نصیحت سره، او په بلنې سره حکم د الله او د رسول الله ته، نو که ظلم او تېری وکړي یوې له دغو دواړو په هغې بلې ډلې باندې، یعنې چې صلح قبوله نه کړي، او حکم د الله او رسول الله ته راضي نشي؛ پس جنګ وکړئ تاسو ټول ای مؤمنانو له هغې (ډلې) سره چې ظلم او تجاوز کوي (پر هغې بلې مظلومې ډلې باندې)، تر هغه پورې چې ببرته راوګرځي دوی حکم د الله تعالی ته، او غاړه ورته کېږدي، او که چېرته وګرځېدله (دغه ډله بې انصافه له ظلم نه، او د الله تعالی حکم یې ببرته ومانه) پس صلح او روغه وکړئ تاسې په منځ د دوی کې په عدل او انصاف سره، عدل او انصاف کوئ تاسې ای مؤمنانو په هر کار کې، ځکه چې بېشکه الله تعالی دوست لري عدل او انصاف کوونکي (په قول او فعل کې).

تفسیر: سره له دې ګردو مخ نیونو که د مسلمانانو د دوو ګوندو (ډلو) په منځ کې جنګ او جګړه پېښه شي، نو تاسې زیات کوښښ وکړئ چې هغه جګړه لرې شي، که په هغه بری ونه مومئ، او یوه ډله په بلې ډلې باندې برید او تعرّض وکړي، او ظلم او زیاتي ته ملاوې وتړي؛ نو تاسې د هغوی سیل او ننداره مه کوئ، بې پلوي او بېطرفي مه غوره کوئ، بلکه تېری او تجاوز له هرې خوا چې وي ګرد مسلمانان دې په هغې کې سره یو شي، او له هغې سره دې جنګ وکړي، تر څو هغه ډله مجبوره شي، او روغې ته ځان وروړاندې کړي، او د خپلو تېریو او زیاتي څخه لاس واخلي، او د الله د امر او حکم په لوري راشي، او روغې ته ځان وروړاندې کړي، نو مسلمانانو لره ښایي چې د دواړو ډلو په منځ کې په عدل او انصاف سره روغه وکړي، او یوه له بلې سره یو ځای کړي، او د دواړو ډلو په مابین کې په طرفداری کې د حق د لارې نه دېخوا او هغه خوا چپ (غلط) نشي.

تنبیه: د صحیحینو له روایت سره سم د دې آیت نزول د انصارو د هغو دوو ډلو په نسبت شوی دی، چې د (اوس) او (خزرج) په نامه سره مشهورې دي، او دوی پخپلو منځونو کې ډېر جګړې سره کولې، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د دې آیت په اساس د هغوی دواړو په منځ کې سره روغه وفرمایله، لکه چې په (۴ جزء د سورت آل عمران په (۱۱) رکوع (۱۰۳) آیت) کې دي: ﴿وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا﴾ الآیة.

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٠﴾

بېشکه چې مؤمنان ټول په دین کې سره وروڼه دي، نو پس صلح او جوړښت کوئ تاسې (ای مؤمنانو) په منځ د وروڼو خپلو کې (تل ترتله)، او وویرېږئ له الله تعالی څخه (په هر څیز او په هر وخت کې) او ځان ساتئ (له معاصیو) ښایي چې درباندې رحمت وکړ شي (له جانبه د الله).

تفسير: د روغې او د جګړې په وخت کې بلکه په هر حالت کې ښايي دا تر سترګو لاندې وي، چې د دوو وروڼو روغه يا جګړه دې د دښمنانو او کافرانو په څېر ونه بلله شي !، کله چې دوی سره وروڼه کيږي؛ نو هغوی هم هغسې مه پرېږدئ، بلکه په ذات البيني اصلاح کې يې ډېر زيات کوښښ وکړئ، او د دې کوښښ کولو په وخت کې تل له الله تعالى څخه وويرېږئ !، چې له کومې خوا بې ځايه طرفداري ونه شي، يا د انتقامي جذبې له کبله کومه نښه په منځ کې ونه ليدله شي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَسۡخَرۡ قَوۡمٞ مِّن قَوۡمٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُونُواْ خَيۡرٗا مِّنۡهُمۡ وَلَا نِسَآءٞ مِّن نِّسَآءٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُنَّ خَيۡرٗا مِّنۡهُنَّۖ وَلَا تَلۡمِزُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَلَا تَنَابَزُواْ بِٱلۡأَلۡقَٰبِۖ

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو !) ټوکې او سپکاوی دې نه کوي هيڅ يو قوم له تاسې څخه په بل قوم باندې، ځکه ښايي چې وي به دغه (مسخره کړی شوی) بهتره او غوره (په نزد د الله) له دې (مسخره کوونکيو) څخه، او (نه دې ټوکې او سپکاوی کوي) يو ټولی ښځې له تاسې په نورو ښځو، ځکه ښايي چې هغه (مسخرې کړی شوی) به بهترې او غوره وي (په نزد د الله له دې مسخره کوونکيو څخه)، او مه عيب جويي کوئ بعضې د تاسو د بعضې نورو، ځکه چې بيا د تاسو عيب جويي هم کيږي (چې دا په حقيقت کې د ځان عيب جويي ده)، او مه غواړئ تاسې يو تر بل په بد نومونو او القابو سره.

تفسير: ډومبی يې د مسلمانانو د نزاع او جګړې د لرې کولو تدبيرونه راوښوول، بيا يې دا راوښوده که اتفاقًا اختلاف پېښ شي؛ نو په زور او مؤثرې طريقې سره دې هغه ورک کړ شي، خو تر کله پورې چې د نزاع خاتمه ونه شي؛ ښايي کوښښ وکړ شي چې لږ تر لږه د منافرت او مخالفت جذبې زياتې او مشتعلې نه شي.

په دې آيت کې الله تعالى مونږ ته داسې حکم فرمايي، چې يوه ډله دې له بلې ډلې سره مسخرې او ټوکې نه کوي، او نه دې يو په بل باندې ناوړه غږونه کوي !، او نه دې يو په بل پسې د عيب لټولو لپاره لويږي، او نه دې په بدو نومونو او ناولیو لقبونو سره يو بل ياد کړي، ولې چې له داسې خبرې څخه دښمني او نفرت ورځ په ورځ زياتيږي، او د فتنې او د فساد اور لا تيزيږي، سبحان الله ! دا څو قيمتداري لارښوونې او هدايات دي !، که نن مسلمانان لږ څه ځير شي، د دوی د ګردو جګړو او جنګونو او د نورو اخلاقي رنځوريو د علاج نسخې په همدې د (حجرات) په سورت کې شته.

بِئۡسَ ٱلِٱسۡمُ ٱلۡفُسُوقُ بَعۡدَ ٱلۡإِيمَٰنِۚ

بد دي دا درې نومونه د (سخريې، تلمّز، تنابز) له جهته د فاسقې وروسته له ايمان درلودلو (لرلو) څخه.

تفسير: د بل سړي د خراب نوم په اخيستلو سره پخپله هم هغه نوم اخيستونکی ګناهګاريږی، که پر هغه باندې هغه بد اثر وکړي، که يې ونه کړي، خو دی پخپله ځان بد تهذيب، فاسق، او ګناهګار او خلق ربړوونکی ښکاره کوي، خيال وکړئ چې مؤمن له ښکلي لقب سره دا بل لوری نښه ښکاري؟ او بل تفسير يې داسې کېدی شي: کله چې يو څوک مسلمان شي؛ نو بيا هغه ته په هغو پخوانيو خبرو باندې طعنه ورکول يا د هغه وخت په بدترينو القابو يادول لکه پرنګی، يهود، هندو او داسې نور؛ ډېر مذموم حرکت دی، همداسې هغه سړی چې په کوم عيب کې اخته وي، چې هغه يې په واک کې نه وي، يا يې له کومې ګناه څخه فرض يې کړئ توبه کړي وي؛ له هغه څخه د ژغورنې لپاره د هغه يادول نښه نه دي.

وَمَنْ لَّمْ يَتُبْ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۱۱﴾

او هغه چې توبه يې ونه ايستله؛ نو دغه کسان همدوی دي ظالمان (پر ځانونو خپلو).

تفسير: هغه ګناه چې پخوا شوې، له هغې څخه توبه وکړئ !، که د دې هدایاتو او حکمونو د اوربدلو څخه وروسته دوی له هغو جرائمو څخه توبه نه کوي؛ نو د الله په نزد به اصلي ظلم همدا وي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ وَّلَا تَجَسَّسُوْا وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا

ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو !) ځان وساتئ تاسې له ډېرو بدګمانيو او تهمتونو نه (په خلقو باندې)، بېشکه ځينې بد ګمانونه او تهمتونه ګناه ده، او مه لټوئ تاسې پټ عيبونه د مسلمانانو، او نه دې کوي غيبت ځينې ستاسې د ځينو نورو.

تفسير: د دوو تنو د اختلاف او تفريق په ډېروالي کې دا امور په خصوصيت سره داخل دي، يو فريق په بل فريق باندې داسې بد ګمان کوي چې حُسن ظن لره چې په حديث کې راغلی دی؛ هيڅ ځای نه پاتې کيږي، او له هرې يوې خبرې څخه څه ناڅه مخالفت کوي، که د هغه په خبرو کې د ښه والي له زرو احتمالاتو څخه د يوې خرابۍ احتمال هم متصور وي؛ نو د هغه فکر او چرت د هم هغې خرابۍ په لوري وردرومي، او له هغو ټولو ښېګڼو څخه يې سترګې پټوي، او د هم هغې کوچنۍ خرابۍ په شاوخوا کې چورلي، او هم هغه خرابه او کمزورې خوا ته يوه قطعي او يقيني بڼه او شکل ورښيي، او پخپل مقابل فريق باندې د تُهمت په الزام شروع کوي، نو پاک قرآن له دې ګردو ويناوو او خُرافاتو څخه منع کوي، که مونږ مسلمانان د پاک قرآن په احکامو باندې عمل وکړو، نو هغه ګرد اختلافات چې له بد قسمتۍ راپيښيږي، له خپله حده نه تيريږي، او د هغو ضررونه به محدود پاتې کيږي، بلکه په لږ مدّت کې به د هغه نوم او نښه هم ورکيږي، الزام لګول او د پټو خبرو لټول او د هر چا په شا خبرې کول؛ هيڅا ته او هيڅ کله روا نه دي.

اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ

آيا خوښوي يو له تاسې څخه دا چې وخوري غوښې د ورور خپل، حال دا چې مړ وي، پس بد ګڼې تاسې هغه؛ نو همدارنګه بد وګڼئ د مسلمان ورور غيبت او عيب لټول.

تفسير: د خپل مسلمان ورور غيبت کول داسې ګنده کار دی، لکه چې څوک د خپل هسې مړه ورور غوښه چې سخا شوي هم وي؛ پخپلو نوکانو سره شکوي، او خوري يې، نو آيا د ده دا چارې کوم انسان خوښوي؛ نو وپوهېږئ چې غيبت کول له دې نه هم يو شنيع او خراب کار دی، ټولې کينې او دښمنۍ او حتّی داسې نور ډېر بد عواقب ټول له غيبت نه پيدا کيږي.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾

وويرېږئ تاسې له الله تعالی څخه، بېشکه الله ښه توبه قبلوونکی، ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: په دې نصيحتونو باندې هم هغه څوک عمل کوي، چې په زړه کې يې د الله تعالی وېره وي، که د الله تعالی وېره نه وي؛ نو هيڅ نه کيږي، که پخوا د دې حکم له لوستلو څخه کومه غلطي يا تېروالته له هغوی څخه شوي وي؛ نو اوس ښايي د پاک الله په مخکښې د زړه له کومې توبه وکړي، او د هغه له مهربانۍ او لورينې څخه خپله ښښنه او مغفرت وغواړي چې مغفرت يې وکړي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ

ای خلقو ! بېشکه مو پیدا کړي یئ تاسې (ټول اصلاً) له یوه سړي چې (آدم) او له یوې ښځې چې (حوا) ده، او ګرځولي یئ مونږ تاسې څانګې او قبیلې قبیلې، لپاره د دې چې وپېژنئ یو له بل سره، بېشکه چې ډېر مکرّم او معزّز له تاسې څخه په نزد د الله ډېر متّقي ادب لرونکی ستاسې دی.

تفسیر: زیاتره د غیبت، طعن، ذم او عیب لټولو منشأ کبر او غرور دی، چې آدمي خپل ځان لوی ګڼي، او نورو ته په حقارت او سپکه ګوري، نو ځکه الله تعالی دلته دا راښیي چې انسان لره نه ښایي چې پخپل اصل او نسب او لویي او عزّت باندې مغرور شي، بلکه ودې پوهیږي چې د انسان اصلي لویي او عزّت په دې کې دی چې ښه روش او ښه خصلتونه ولري، او تل له الله وویریږي، مؤدب او پرهېزګار وي، تر څو د دې ښو صفاتو په مېچ او اندازه د الله تعالی په دربار کې معزز، مکرّم او محترم شي، د نسب حقیقت خو دا دی چې ګرد نارینه او سړي له آدم او حوّاء علیهما السّلام څخه پیدا دي، سیدي، عثماني، فاروقي، صدّیقي، انصاري، شیخي، خاني، ځویتوب، او نورې ستاینې (صفتونه) د ښه علم، عمل او تقوی په مقابل کې هیڅ دي، او دا خاندانونه، صفتونه، او ستاینې پرته له دې څخه چې خلق پرې پېژندل کیږي، او په تعارف کې کار ورکوي؛ بل کوم قدر او قیمت نه لري، اصلي قدر او قیمت د هر سړي په دې کې دی چې متقي، پرهېزګاره او پوه وي.

إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ ١٣

بېشکه چې الله تعالی ښه عالم ډېر خبردار دی.

تفسیر: تقوی او ادب په اصل کې د زړه کار دی، الله تعالی ته دغه ښه معلوم دي هر هغه سړی به چې په ښکاره ډول سره متقي او مؤدب په نظر راځي؛ هغه په واقع کې څنګه دی، او وروسته له دې څخه به څرنګه شي؟ عبرت آخرې خاتمې لره دی.

قَالَتِ ٱلۡأَعۡرَابُ ءَامَنَّاۖ قُل لَّمۡ تُؤۡمِنُواْ وَلَٰكِن قُولُوٓاْ أَسۡلَمۡنَا وَلَمَّا يَدۡخُلِ ٱلۡإِيمَٰنُ فِي قُلُوبِكُمۡۖ

وویل صحرائیانو ایمان راوړی دی مونږ، ووایه (ای محمده ! دوی ته) له سره ایمان نه دی راوړی تاسې، ولیکن ووایئ: اسلام راوړی دی مونږ، او له سره نه دی ننوتی ایمان په زړونو ستاسې کې.

تفسیر: دلته دا راښیي چې ایمان او یقین کله چې په پوره ډول په زړه کې راسخ شي، او بیخ ونیسي؛ نو په هغه وخت کې غیبت، عیب لټول، او نور خراب خصلتونه له سړي ځني لرې کیږي، هر هغه سړی چې د نورو عیبونه لټوي، او ازار ورسوي؛ نو دی دې وپوهیږي چې تر اوسه پورې ایمان په پوره ډول په زړه د ده کې ځای نه دی نیولی.

تنبیه: له دې آیت څخه د ایمان او د اسلام فرق ښکاریږي، او همدا خبره له حدیث د جبرئیل او نورو څخه هم ثابتیږي.

وَإِن تُطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَا يَلِتۡكُم مِّنۡ أَعۡمَٰلِكُمۡ شَيۡـٔاًۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ١٤

او که حکم ومنئ تاسې د الله او د رسول د دغه (الله په اخلاص سره)؛ نو نه پرې کوي نه کموي (الله) له (جزاء د) عملونو ستاسې څخه هیڅ شی، بېشکه چې الله ښه مغفرت کوونکی ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: که اوس هم د الله تعالی د اوامرو د منلو لار غوره کړئ؛ نو د ړومبنيو کمزوريو لامله ستاسې له هيڅ يو عمل څخه د هغه ثواب نه کموي.

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ ﴿١٥﴾

بېشکه چې (صادقان) مؤمنان هغه کسان دي چې ايمان يې راوړی دی په الله او په رسول د دغه (الله) باندې، بيا شک نه کوي (په ايمان کې)، او جهاد کوي دوی په مالونو خپلو سره (چې لګوي يې په اعلاء د کلمة الله کې)، او په ځانونو خپلو سره چې جهاد کوي په لاره د الله کې؛ دا کسان همدوی رښتينې دي (په دعوی د ايمان کې).

تفسير: د رښتينې مؤمن شان دا دی چې په الله تعالی او د هغه په رسول باندې پوره او پوخ اعتقاد ولري، او د هغه په لاره کې په هر قسم سره چې وي؛ په مال او ځان سره حاضر وي.

قُلْ أَتُعَلِّمُونَ اللَّهَ بِدِينِكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٦﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) آيا خبروئ پوهوئ تاسې الله په دين د تاسې سره، حال دا چې الله ته معلوم دي هر هغه څيزونه چې په اسمانونو کې دي، او هر هغه څيزونه چې په ځمکه کې دي، او الله تعالی پر هر څيز باندې ښه خبردار دی، هيڅ شی ترې پټ نه دی.

تفسير: که په رښتيا سره واقعي دين او پوره يقين تاسې لره حاصل وي؛ نو له تش ويلو څخه څه په لاس درځي؟ له هغه پاک الله سره چې ستاسو معامله ده، هغه ډېر ښه پرې پوهيږي، هر شی ورته ډېر ښه ښکاره او معلوم دی.

يَمُنُّونَ عَلَيْكَ أَنْ أَسْلَمُوا ۖ

احسان باروي دوی په تا باندې (ای محمده !) د دې چې تش مسلمانان شوي دي دوی.

تفسير: ځينې کوچيان او صحرائيان راځي، او وايي: وګورئ چې مونږ بې له جنګه او جګړې مسلمانان شوي يو، ګواکې دوی خپل احسان ښکاره کوي، او د دې ځواب وروسته له دې نه داسې ورکاوه کيږی:

قُلْ لَا تَمُنُّوا عَلَيَّ إِسْلَامَكُمْ ۖ بَلِ اللَّهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدَاكُمْ لِلْإِيمَانِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٧﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) احسان مه باروئ تاسې په ما باندې د اسلام راوړلو د تاسې، بلکه الله احسان کوي په تاسې باندې د دې چې لاره يې وښوولە تاسې ته د ايمان راوړلو، که يئ تاسې رښتينې او صادقان (په دعوی د ايمان کې).

تفسير: که په واقعي ډول تاسې د اسلام دعوی لرئ، او په رښتيا سره ايمانداران يئ؛ نو دا ستاسې احسان نه دی، بلکه د الله احسان دی چې تاسې ته يې د ايمان په لوري لاره دروښوده، او د اسلام په لوی دولت يې سرفرازي درکړه.

ګواکې د دې سُورت په پای کې يې تنبيه فرمايلې ده، که تاسې ته پر قرآني هدايا تو او اسلامي تعليماتو باندې د عمل کولو توفيق په لاس درځي؛ نو هغه د احسان په ډول مه ورښکاروئ !، بلکه د الله تعالی أكرم شأنُه وأعظم برهانُه د شکر او انعام حق اداء کړئ، چې تاسې ته يې داسې توفيق درکړی دی.

إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨﴾

بېشكه الله ته ښه معلوم دى غيب د اسمانونو او د ځمكې، او الله تعالى ښه ليدونكى دى په هغو كارونو باندې چې كوئ يې تاسې.

تفسير: الله تعالى ته د زړونو پټې خبرې او ښكاره چارې ګردې ورمعلومې دي، نو د دغه عليم او خبير په مخكې خبرې او بهانې مه جوړوئ !.

تمّت سورة الحجرات، ولله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ قٓ

«د (قٓ) سورت مکّي دی، پر ته (۳۸) آیت څخه چې مدني دی، (۴۵) آیتونه (۳) رکوع لري»، په تلاوت کې (۵۰) او په نزول کې (۳۴) سورت دی، وروسته له (المرسلات) سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

قٓ ۟ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ ۟ۚ بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا شَيْءٌ عَجِيْبٌ ۟ۚ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ۚ ذٰلِكَ رَجْعٌۢ بَعِيْدٌ ۟

قسم دی پر قرآن چې لوی شان لري. (او نه دی راوړی ایمان کُفّارو په تا ای محمّده) بلکه تعجّب کوي دوی له دې نه چې راغلی دوی ته ویروونکی له دوی څخه، نو وویل کافرانو: دا (ویرول) یو شی عجیب دی. آیا کله چې مړه شو مونږ او شو مونږ خاوړې (بیا به هم ژوندي کیږو؟)، دغه بېرته راتلل ډېر لرې دي (له عقله).

تفسیر: الله تعالی په قرآنکریم قسم کوي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نبوّت، او د مړ ک نه پس ژوندون حق دی، لیکن کافران دا تعجّب کوي، چې څرنګه به مونږ راژوندي شو، په داسې حال کې چې خاوړې شو، خو دوی په اول ځل پیدا کولو کې فکر نه کوي، چې الله تعالی څرنګه پیدا کړل، نو ده ته دوباره راپورته کول د دوی څه ګران دي؟.

قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْهُمْ ۚ

(الله فرمایي د دوی د وینا په رد کې) په تحقیق سره معلوم دي مونږ ته هغه چې کموي یې ځمکه له وجوده د دوی.

تفسیر: ګرد وجود نه خاوړې کیږي، روح سلامت پاتې کیږي، او د بدن اجزاء تحلیل کیږي، او په هر لوري تیت او پرک کیږي، خو الله تعالی ته هغه ګرد ښکاره دي، او کولی شي چې بیا هغه تیت پیت اجزاء سره راټول کړي، او بیا یې لکه اول ځلي جوړ او غوښه، پلې، رګونه او پوست پرې زرغون او سا په کې واچوي.

وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ حَفِيْظٌ ۟

او مونږ سره یو کتاب دی په یاد ساتونکی د هر شي چې لوح محفوظ دی.

تفسیر: دا نه ده چې له نن څخه راښکاره او معلوم دي، بلکه د قدیمي علم مو دی، تر دې چې له هغه څخه پخواني قبل الوُقوع ګرد حالات هم په یو کتاب کې چې لوح محفوظ نومیږي، لیکل شوي دي، او تر اوسه پورې هغه کتاب ځمونږ سره شته.

بَلْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ فَهُمْ فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ ۝۵

بلکه نسبت د دروغو کړی دی دوی حق او رښتيني دين ته کله چې راغی دوی ته، پس دوی په ګډو وډو مختلفو خبرو کې (مضطرب) دي.

تفسير: يواځې تعجّب نه بلکه په ښکاره ډول يې دروغ بولي، او ځمونږ د پيغمبر صلی الله عليه وسلم نبوّت قرآن، بعث بعد الموت او نور اعتقادي شيان هم دروغ ګڼي، او عجيبې ګډې وډې مختلفې او راز راز ويناوې کوي، بېشکه هر هغه سړی چې رښتيا خبرې دروغ بولي، په همداسې شکوکو، اضطرابونو، حيرانتياوو، تردد، تحيّر او تذبذُب سره غاړه په غاړه کيږی، او د ناپوهۍ په غړومبي (ګرداب) کې لويږي، ځکه چې له داسې يوه څرګند (ښکاره) امر نه انکار کوي، چې ثبوت يې له لمر نه هم روښانه دی، خو که نصوص او دلائل ولټول شي.

اَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا اِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنٰهَا وَزَيَّنّٰهَا وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوْجٍ ۝۶

آيا پس نه ګوري دغه (منکران د بعث له غفلته) طرف د اسمان ته د پاسه د دوی چې څرنګه جوړ کړی دی مونږ هغه، او ښايسته کړی دی مونږ هغه، او نشته دغه آسمان ته کوم چاود (عيب).

تفسير: اسمان ته وګورئ !، چې په ښکاره ډول سره نه کومه ستنه په کې په نظر راځي، او نه کومه پايه لري، او نه له کوم شي سره تړلی شوی دی، داسې عظيم الشأن جسم يې څرنګه مضبوط او مستحکم درولی دی؟ د شپې له مخې د ستوريو په کروړونو قناديل ډيوې په کې بليږي، او د هغې منورې کرې له لرې لکه د برېښنا لويې ونې رابرېښي، او په مجموعي ډول څومره په سنګار او رونق ډولي ښکاري، له ګردو څخه غوره خبره دا ده چې سره له تېرېدلو د زرګونو قرنو څخه نه کوم سوری يا چاود په کې لوېدلی دی، نه يې کومه ګنګوره نړېدلې ده، نه يې پلاستر مات دی، نه يې رنګ الوتی دی، آخر دا کوم يو لاس دی؟ چې داسې مخلوق يې جوړ کړی دی؟ او بيا يې له ډېرو پېړيو راهيسې همداسې ساتلی دی؟.

وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍۢ بَهِيْجٍ ۝۷ تَبْصِرَةً وَّذِكْرٰى لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ۝۸

او (آيا نظر نه کوي دوی) ځمکې ته (چې څرنګه ښه) غوړولې مو ده، او غورځولي مو دي په هغې کې درانه بارونه محکم غرونه، او زرغونه کړي مو دي په هغې (ځمکې) کې له هر قسم تازه ګياوې. د رونق شيان لپاره د ښوونې (د قدرت خپل)، او د پند او نصيحت هر هغه بنده ته چې رُجوع کوونکی وي الله ته.

تفسير: دويمه نښه د قدرت پيدايښت د ځمکې دی:

(الف): اوارول د هغې.

(ب): اچول د غرونو او مېخ کول د ځمکې په هغوی سره.

(ج): زرغونه کول د هر قسم ګياه او تازه بوټو په رونق سره.

(د): هر يوه د دې نښو څخه درس د عبرت ګرځي رښتينو بندګانو لره.

وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَكًا فَأَنۢبَتْنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ الْحَصِيْدِ ۝٩

او نازلې راښکته کړي دي مونږ له (طرفه د) اسمانه اوبه ډېرې برکتناکې؛ نو زرغونه مو کړل په دغو (اوبو) سره باغونه (چې هر راز مېوې لري)، او دانې د کښت چې فصل يې ربېلی کيږي.

تفسير: درېيمه ننبه د قدرت د اوبو راښکته کول دي له اسمانونو نه:

(الف): اوبه مبارکې او بابرکته چې هر شی په هغې سره ژوندی کيږی.

(ب): باغونه او دانې د کښتونو (فصلونو) چې په هغې سره زرغونيږي، غله هغه ده چې له هغې سره بوټي يې هم ربېل کيږي، او د باغ ونې سره له دې چې مېوې يې شکولی کيږي؛ ونې يې پخپله پاتې کيږي.

وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ۝١٠

او (زرغونې مو کړلې په دغو اوبو سره ونې د) خرماوو لوړې، هغې لره وږې دي لاندې باندې.

تفسير: (ج): زرغونول د خرما د ونو، لوړې لوړې چې دوی لره وږې دي لاندې باندې، چې روزي ده لپاره د بندګانو، په ډېر کثرت او وفرت سره، چې د هغو وږې په لېدلو کې هم ډېر ښه ښکاري.

رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ ۙ وَأَحْيَيْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ ۝١١

رزق روزي لپاره د بندګانو او ژوندي کړل مونږ په دغو (اوبو) سره کلي او ښارونه مړه، همداسې دي راوتل (د مړيو له قبرونو نه).

تفسير: (د): الله تعالى ژوندي کوي په دې اوبو د باران سره ښارونه او کلي مړه، يعنې چې بوټي او ګيا ټولې وچې او خزان وي، بيا يې ژوندي کوو او زرغوني کوو يې، نو نتيجه د دې دريو ننبو سره له اجزاوو يې دېته شوه، چې تاسې انسانان هم داسې راوتونکي او ژوندي کولی شئ، لکه چې ګياوې زرغونې کيدونکې او راوتونکې دي، نو که تاسو عقل لرئ په خپل ژوند کې پس له مرګه هيڅ شک او شبهه مه کوئ !، لکه چې د باران په ورولو سره مړه ځمکه ژوندۍ کوي؛ همداسې د قيامت په ورځ مړي هم ژوندي کولی شي.

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّأَصْحٰبُ الرَّسِّ وَثَمُوْدُ ۝١٢ وَعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ وَإِخْوَانُ لُوْطٍ ۝١٣ وَّأَصْحٰبُ الْأَيْكَةِ وَقَوْمُ تُبَّعٍ ۭ

نسبت د دروغو کړی وو پخوا له دغو (کفّارو) قوم د نوح (نوح ته)، او ملګري د کوهي (نبي خپل ته)، او ثموديانو (صالح ته)، او عاديانو (هود ته)، او فرعون (موسی ته)، او وروڼو د لوط (لوط ته)، او خاوندانو د ځنګله (شُعيب ته)، او قوم د تُبّع (خپل نبي ته).

تفسير: د دې قومونو قصې د «حجر»، «فرقان»، «دخان» او په نورو سورتونو کې تېرې شوي دي، هلته يې بيا ولولئ !.

كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيْدِ ۝١٤

دوی ټولو نسبت د دروغو کړی وو پيغمبرانو خپلو ته؛ نو بيا حق او ثابت شو ځما عذاب پر دوی.

تفسير: د انبياوو د دروغجن شمېرلو (ګڼلو) لامله له هغو شيانو څخه چې دوی ويرول شوي وو؛ هغه ور د مخه راغلل، او په هم هغه عذابونو کې چې دوی ترې ويرول شوي وو؛ ولو ېدل.

أَفَعَيِينَا بِالْخَلْقِ الْأَوَّلِ ۚ بَلْ هُمْ فِي لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٥﴾

آيا پس نو مونږ ستړي شوي وو په پيدايښت اول باندې (يعنې نه يو ستړي شوي)، بلکه دوی په شک کې دي له جوړولو او ژوندي کولو نويو څخه.

تفسير: د دويم ځلي نوي ژوندون په نسبت هغوی ته خوشې او فضول يو شک پيدا شوی دی، هغه قادر مطلق چې دوی يې اول ځلي پيدا کړي دي، آيا دويم ځلي هغه ته د هغوی بيا پيدا کول کوم ګران کار دی؟ آيا دوی هسې ګمان کوي چې (معاذ الله) هغه به په اول ځلي د دې ګردې دنيا له پيدا کولو څخه ستړی شوی وي؟ د هغه مطلق قادر په نسبت داسې توهّمات غوره کول ډېر سخت جهالت او سپين سترګيتوب دی.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ ۖ

او په تحقيق پيدا کړی دی مونږ جنس د انسان په داسې حال کې چې مونږ پوهيږو په هغه څيز چې وسوسه او خطره کوي په هغه سره زړه د ده له فکرونو عبثو او ناکارو سره.

تفسير: د انسانانو د هر قول او فعل څخه مونږ خبردار يو، تر دې چې له هغو پټو خبرو چې د وسوسې په ډول د هغو په زړه کې تيريږي؛ هغه هم مونږ ته معلوم دي: ﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾ (۲۹ جزء لمړۍ رکوع (۱۴) آيت).

وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ ﴿١٦﴾

حال دا چې مونږ ډېر نژدې يو ده ته (څمونږ ملائکې) له رګونو د ورمېږ د ده څخه.

تفسير: يعنې څمونږ ملائکې انسان ته د ورمېږ د رګ (شارګ) څخه نژدې دي، چې الله تعالى ملائکو ته د دې قُدرت ورکړی دی.

إِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيَانِ عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيدٌ ﴿١٧﴾

(او ياد کړه) کله چې اخلي دوه اخيستونکي پرښتې چې يوه له ښي طرف نه ناسته وي ليکلو د نېکۍ ته، او بله له کين طرف نه ناسته وي ليکلو د بدۍ ته.

تفسير: دوه پرښتې د الله په حکم سره د همېش لپاره د هر سړي په کتنه کې دي، هر هغه لفظ چې د دوی له خولې څخه ووځي، يا هر کار چې دوی يې کوي؛ سمدلاسه يې ليکي، د نېکۍ لېکونکې ښي خوا ته او بدۍ ليکونکې کينې خوا ته ناستې او ټاکلې (مقرر کړی) شوي دي، څه زيادت او نقصان نه کوي، بلکه په ډېرې امانتدارۍ سره ليکنې کوي: ﴿وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ﴾ (جزء عمّ، د الانفطار سورت).

مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴿١٨﴾

نه وايي دغه بنده هيڅ خبره مګر خو وي له ده څخه دوه ساتونکي، حاضر او تيار چې ژر يې وليکي.

تفسير: دا دوه پرښتې ليکلو ته همېشه تيارې وي، او هيڅکله نه تر ې جُدا کيږي، هغه چې د ورځې له طرفه موظّفې دي؛ د نمازديګر په وخت کې عملونه د بندګانو ثبت ته رسوي، او هغه چې د شپې له طرفه موظفې دي؛ په وخت د صباح کې عملونه د بندګانو ربّ العالمين ته پورته کوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي چې: الله تعالى له دې ملائکو نه پوښتنه کوي چې: ځما بندګان په څه حالت کې وو؟ هغوی ورته وايي چې: په سجده وو، نو رب العالمين ملائکو ته په هغوی باندې افتخار کوي، نو له همدې وجې نه بايد په دې دوو لمونځونو باندې ډېر خيال وشي !.

وَجَآءَتْ سَكْرَةُ ٱلْمَوْتِ بِٱلْحَقِّ

او راغلې بې هوشي سختي د مرګ لپاره د دې چې په سترګو يې ووينې په حق سره.

تفسير: له يوه لوري دفتر او دوسيه تياره شوې ده، او له بل لوري يې د مرګي په کنده باندې رسېدلى دى، مړ کېدونکى دى، او د ځنکدن په تکليفونو کې غوټې خوري، نو هلته دا ګردې خبرې ورته رښتيا ښکاري، چې الله تعالى او د هغه پيغمبرانو د هغه خبر ورکړى وو، او د مړي له مخې د هغه د سعادت او شقاوت پردې لرې کيږي، او د داسې پېښې پېښېدل يقيني او قطعي دي، ځکه چې د مطلق حکيم ډېر حکمتونه د ده سره اړې لري، نو په دغه وخت کې به وويلى شي دغه منکر انسان ته داسې چې:

ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنْهُ تَحِيدُ ﴿١٩﴾

دا مرګ هغه دى چې وې به ته له ده څخه په څنګ کېدونکى، او نه وې پرې اقرار کوونکى.

تفسير: سړى ډېر زيار کوي چې له مرګ څخه ځان وژغوري (وساتي)، او د هغه د بد خوند او وحشت څخه تل ځان وساتي، او دېخوا او هغې خوا سر او پښې ووهي، خو سره له دې د مرګي شېبه چېرې وروسته کېدونکې ده، آخر هغه په سر باندې راتلونکې ده، او هيڅ يوه حيله او تدبير د مرګي مخه نشي نيولى.

وَنُفِخَ فِى ٱلصُّورِ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلْوَعِيدِ ﴿٢٠﴾

او وبه پوکل شي په صور (شپېلى) کې، چې دا يوه ورځ ده د ويرولو (د کُفّارو په عذاب سره).

تفسير: وړوکى قيامت خو د مرګ وخت دى، وروسته له دې لوى قيامت حاضر دى، فقط چې په صور او شپېلى کې وپوکلى شي، هغه ويروونکې ورځ موجوديږي، چې انبياوو او پيغمبرانو خلق ترېنه ويرولي وو.

وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَشَهِيدٌ ﴿٢١﴾

او راځي هر نفس په دې ورځ کې چې وي به له ده سره يو شړونکى (محشر ته)، او شاهدي ورکوونکى (پر اعمال يې لکه لاس، پښې او داسې نور).

تفسير: خلق به په قيامت کې داسې حاضر کړل شي، چې يوه پرښته به يې ميدان ته د وړاندې کولو لپاره راکاږي، او بلې به يې عملنامه نيولي وي، چې د ده د ژوندانه ګرد احوال او خبرې په کې ليکلي شوي وي، ښايي چې دا به همغه دوه پرښتې وي چې ورته ﴿كِرَامًا كَاتِبِينَ﴾ وايي، او د هغو په نسبت يې فرمايلي دي: ﴿إِذْ يَتَلَقَّى ٱلْمُتَلَقِّيَانِ﴾ الآية ـ او ښايي چې کومه بل وي، والله أعلم، نو وبه ويلى شي ده ته د الله تعالى له جانبه داسې چې:

لَقَدْ كُنْتَ فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ﴿۲۲﴾

په تحقیق سره (په دنیا کې) وې ته په غفلت ببخبرۍ له دې ورځې د عذاب څخه، نو ببرته مو کړه له تا څخه پرده د غفلت ستا، نو سترګې ستا نن ډېرې تېزې دي (چې پرې وینې خپل ګرد اعمال).

تفسیر: په هغه وخت کې به وویلی شي دوی ته چې: تاسې د دنیا په خوندورو شیانو کې مشغول وئ، او له دې ورځې څخه ببخبر او بې پروا وئ، او ستاسې سترګې د شهواتو او غوښتنو تیارې او پردې پټې کړې وې، هغه ښوونې چې پیغمبرانو تاسې ته کولې؛ هغو ته مو فکر نه کاوه، نن هغه پرده ستاسې له سترګو څخه لرې کوو، او ستاسې لیدنه خورا زیاتوو، تر څه ښه وګورې: آیا هغه خبرې چې تاسې ته کېدلې؛ صحیح وې او که غلطې؟ ثابته وه او ثابته شوه چې دا ټولې خبرې رښتیا وې.

وَقَالَ قَرِيْنُهٗ هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيْدٌ ﴿۲۳﴾

او وبه وایي ملګری د ده (پرښته) دا دی هغه شی چې ما سره حاضر دی (د دفاترو د اعمالو د ده).

تفسیر: پرښتې به یې له اعمالنامو سره حاضرې وي، ځینې له (قرین) څخه شیطان مرادوي، یعنې شیطان به وایي: دا مجرم حاضر دی، چې ځما له خوا اغوا شوی وو، او هغه مې د دوزخ لپار تیار کړی دی، مطلب دا چې هغه اغوا ځما له لاسه شوې ده، خو په ما کې دومره زور او تسلّط چېرې وو، چې هغه مې په جبري ډول سره په شرارت کې اخته کړې، دی پخپل اختیار، اراده او واک ګمراه شوی دی.

اَلْقِيَا فِيْ جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۲۴﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيْبِ ﴿۲۵﴾

(نو وبه ویل شي دوو پرښتو ته) وغورځوئ تاسې په دوزخ کې هر یو کافر عناد کوونکی. منع کوونکی د خیر، تېرېدونکی له حدودو مشروعو، ظالم او شک کوونکی (په دین کې).

تفسیر: د الله تعالی له درباره به دغه حکم دوو پرښتو ته وشي، چې داسې سړی دې په دوزخ کې واچول شي !.

اَلَّذِيْ جَعَلَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَاَلْقِيٰهُ فِي الْعَذَابِ الشَّدِيْدِ ﴿۲۶﴾

هغه (کافر) چې ګرځولی یې دی له الله تعالی سره بل معبود، نو وغورځوئ دی په عذاب سخت کې.

تفسیر: داسې سړی په دوزخ کې د ډېر سخت عذاب مستحق دی، ځکه چې تر مشرکینو نه لوی ظالمان نور په دنیا کې نشته.

قَالَ قَرِيْنُهٗ رَبَّنَا مَآ اَطْغَيْتُهٗ وَلٰكِنْ كَانَ فِيْ ضَلٰلٍ بَعِيْدٍ ﴿۲۷﴾

وبه وایي ملګری د ده یعنې شیطان: ای ربه ځمونږ ! نه وو ګمراه کړی ما دی (جبرًا)، لیکن وو دی پخپله په ګمراهی لرې کې له حقه ځنې.

تفسیر: ځما زور پر ده باندې نه رسېده، لږ څه اشاره مې چې ورته وکړه؛ دغه کمبخت پخپله ګمراه شو، د نجات او فلاح له لارې څخه لرې ولوېد، شیطان په داسې ویناوو سره غواړي چې خپل جرم سپک ورښکاره کړي.

قَالَ لَا تَخْتَصِمُوا لَدَيَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ إِلَيْكُمْ بِالْوَعِيدِ ﴿۲۸﴾

وبه فرمايي (الله قهرًا چې) جګړه مه کوئ تاسې دلته له ما څخه چې فائده نه کوي جګړې د تاسې په دې ځای کې، او په تحقيق ډومبی لېږلي وو ما تاسې ته وېرول خپل په ژبو د انبياوو.

تفسير: تاسې چتې او اپلتې خبرې مه کوئ، په دنيا کې مې هر چا ته د ښو او بدو لارې ورښوولې وې، اوس هر يوه ته د هغه له جُرم سره سمه جزاء ورکوله کيږي، هغه چې ګمراه شوی دی، او هغه چې له دوی څخه يې لاره ورکه کړې ده؛ دواړه به د خپلو جرمونو سزاوې وموميِ.

مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿۲۹﴾

نه شي بدلېدلې هيڅ خبره په دې باره کې په نزد ځما، او نه يم زه ظلم کوونکی پر بندګانو چې بې له ګناه يې په عذاب کړم.

تفسير: ځمونږ له لوري به ظلم نه کيږي، هغه فيصله چې صادريږي؛ عين حکمت او انصاف به وي، «او خبره به نه بدليږي»، يعنې کافران به نه بښلی کيږي، نو د دې لوی کافر شيطان بښنه به چېرې کيږي.

يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِن مَّزِيدٍ ﴿۳۰﴾

(ياده کړه هغه ورځ) چې وايو مونږ دوزخ ته داسې: آيا ډک او مړ شوې ته له خلقو نه؟ او وبه وايي هغه: آيا نور هم څه زيات شته، بلکه شته يعنې زيات کړه !، زه لا نه مړ شوی نه يم.

تفسير: د دوزخ وسعت او ارتوالی به له دومره خلقو څخه نه ډکيږي، او د قهر له شدّته به نور کافران او نافرمانان هم ورغواړي.

وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ﴿۳۱﴾

او رانژدې به کړ شي جنّت لپاره د ويريدونکيو پرهېزګارانو چې نه به وي لرې (له دوی نه).

تفسير: جنت به له دوی څخه لرې نه وي، دوی به له ډېر نژدې څخه د هغه تر او تازګي، ښايست او سينګار ويني.

هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ ﴿۳۲﴾ مَّنْ خَشِيَ الرَّحْمَٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَاءَ بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ ﴿۳۳﴾ ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ ۖ

فرمايي الله چې: دا هغه دی چې وعده به يې کېده له تاسې سره، لپاره د هر رجوع کوونکي الله لره، او د هر ساتونکي حدودو د هغه لره. هر هغه زړه چې ويريږي له عذابه د رحمان په غيب سره، او راتلونکی وي په زړه رجوع کوونکي سره الله ته؛ (نو وبه فرمايي الله:) ځئ ننوځئ په کې په سلامتيا سره.

تفسير: هغه کسان چې په دنيا کې يې الله تعالی يادوه، او له ګناهونو څخه يې ځانونه ژغورل، او د الله په لوري به يې رجوع کوله، او بې له ليدلو څخه د هغه له قهر او جلاله ويرېدل، او په يوه پاک او صاف رجوع کوونکي زړه د الله په حضور کې حاضر شوی وو، د هغه جنت وعده له داسې سړيو سره کړی شوې وه، اوس يې وخت رارسېدلی دی، چې په سلامتيا او عافيت سره په کې ننوځئ، او پرښتې دوی ته سلام اچوي، او د پاک پروردګار سلام هم وررسوي.

ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُوْدِ ﴿۳۴﴾

دا ورځ د ورننوتلو په جنت کې ورځ ده د همېشه توب په هغه کې.

تفسير: په حديث کې وايي: جنتيان چې جنّت ته ننوځي؛ ورته ويل کيږي: ننوځئ بيا مو نو مړک نشته، دوزخيانو ته په وخت د ننوتلو کې دوزخ ته همداسې ويل کيږي، نو هغه ورځ هر چا ته هر څه چې وررسيږي؛ د تل لپاره وي.

لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ فِيْهَا وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ﴿۳۵﴾

وي به دغو (مؤمنانو) لره هغه چې غواړي دوی په دې جنّت کې، او له مونږ څخه يې زيادت هم شته په هغو باندې.

تفسير: هر شی چې وغواړي؛ هغه وررسيږي، برسېره په هغه داسې نعمتونه هم وررسيږي، چې د هغوی په خيال کې نه وي رسېدلي، لکه د الله تعالى لقاء او ليدنه، او ممکن دي له ﴿وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ﴾ څخه دا غرض وي چې له مونږ سره ډېر شيان دي، هر څومره چې د جنّتيانو له خوا وغوښت شي؛ هغه ګرد به ورکړل شي.

وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا فَنَقَّبُوْا فِى الْبِلَادِ هَلْ مِنْ مَّحِيْصٍ ﴿۳۶﴾

او ډېر مو هلاک کړي دي پخوا له دې څخه له اهل د زمانو پخوانيو نه چې هغوی ډېر سخت او قوي وو له دغو (کفارو د مکې) څخه له جهته د قوّته؛ نو ډېر ځايونه د پنا يې ولټول په ښارونو کې، چې ګوندې پيدا به کړي ځای د ساتنې له مرګه ځنې، خو پيدا يې نه کړ، آيا شته دوي ته خلاصيدل له هلاکه؟

تفسير: ډومبی د کفارو د اخروي تعذيب بيان وو، په منځ کې د هغوی په مقابل کې د اهل جنّت د تنعّم ذکر راغی، اوس بيا د کفارو د سزا ورکولو ذکر فرمايي، يعنې پخوا له آخرته په دنيا کې مونږ ډېر داسې شرير سرکښ او غاړه غړوونکي قومونه تباه او خراب کړي دي، چې په زور او قوّت کې له موجوده کافرانو څخه ډېر لوړ وو، او په ډېرو ملکونو کې ګرځيدلي وو، او راز راز تصرّفات يې په کې کړي وو، کله چې د الله تعالى عذاب ورسېد؛ نو د تښتېدلو او پټېدلو لپاره هغوی ته په ګرد جهان کې په هيڅ يو ځای کې داسې ځای نه پيدا کېده: ﴿اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِىْ بُرُوْجٍ مُّشَيَّدَةٍ﴾ الآية ـ (د النساء سورت (۱۱) رکوع (۷۸) آيت).

اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ ﴿۳۷﴾

بېشکه په دغو (مذکوره وو شيانو) کې خامخا ذکر او پند دی هر هغه چا لره چې وي هغه لره زړه روغ او فکر کوونکی، يا کيږدي غوږ نصيحت ته په داسې حال کې چې دی حاضر متوجه وي په زړه سره.

تفسير: په دې عبرتناکو واقعاتو باندې له غور او فکر کولو څخه هم هغه خلق پند اخيستی شي چې د هغوی په سينه کې هسې پوهېدونکی زړه وي، چې يا پخپله په خبرې باندې پوهيږي، يا د نورو له پوهولو څخه پوهه ومومي، اوغوږ ورته ونيسي، ځکه چې دا هم د پوهنې يوه درجه ده، چې سړی پخپله نه پوهيږي، خو د نورو له ويښولو څخه متنبه او هوښياريږي، او منفعت ترې اخلي، هغه چې نه پخپله پوهيږي، او نه د نورو پوهولو ته غوږ ږدي، او نه يې په زړه کې ځای ورکوي، نو له هسې سړي څخه لوټه او تيره ښه ده.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَّمَا

او په تحقيق پيدا کړي دي مونږ اسمانونه او ځمکه او هغه نور مخلوقات چې په منځ د دغو (اسمانونو او ځمکه) کې دي په شپږو ورځو کې.

تفسير: د دې بيان پخوا له دې تېر شوی دی.

مَسَّنَا مِنْ لُّغُوبٍ ﴿۳۸﴾

او نه وه رسېدلې مونږ ته هيڅ ستوماني.

تفسير: کله چې دی د اول ځلي له پيدا کولو ځخه نه دی ستړی شوی؛ نو د دويم ځلي په پيدا کولو کې به ځرنګه ستړی کيږی؟ او تباه او برباد کول خو له جوړولو ځخه ډېر اسان دي.

فَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

نو صبر کوه (ای محمده !) پر هغه چې وايي يې دوی، او تسبيح ووايه پيوست له حمده د رب خپل.

تفسير: که دا خلق په داسې غټو خبرو باندې هم نه پوهيږي؛ نو تاسې مه خپه کېږئ !، بلکه پر داسې چټې خبرو باندې صبر وکړئ !، او دا حکم د جهاد د حکم نه مخکې وو، او د هغه الله تعالى په ياد کې د زړه له کومې مشغول اوسئ !، چې د ګردو اسمانونو او ځمکې پيدا کوونکی دی، او د هر شي په ودانولو او ورانولو باندې قدرت لري.

قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ ﴿۳۹﴾ وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ

پخوا له راختلو د لمر يعنې لمونځ د سبا، او پخوا له لوېدلو د لمر ځخه يعنې لمونځونه د ماسپښين او د مازديګر، او په ځنی برخی د شپې نه پس تسبيح وايه د دغه الله يعنې لمونځ د تهجّد او ماسختني وکړه.

تفسير: دا د الله تعالى د يادولو وختونه دي، په دې کې عبادتونه او دعاوې قبليږي، له ځينو روايتونو ځخه ښکاريږي، چې رومبی ځمونږ په پيغمبر صلى الله عليه وسلم باندې د دريو وختونو لمونځ فرض وو، سهار، مازديګر او تهجّد، لکه چې اوس هم دی دريو وختو ته يو خصوصي فضل او شرف حاصل دی، ښايي چې هر سړی په لمانځه، ذکر، دعاء، تلاوت يا نورو ښو کارونو باندې په دغو وختونو کې مشغول اوسي، او معمور يې ولري، په حديث کې راغلي دي: (عليكم بالغداة والروحة وشيء من الدّلجة) ځينې وايي چې: له قبل الطلوع ځخه د سهار لمونځ او له قبل الغُروب ځخه د ماسپښين او مازديګر لمونځونه او له (من الليل) ځخه د ماښام او ماسختن لمونځونه مراد دي.

وَأَدْبَارَ السُّجُودِ ﴿۴۰﴾

او وروسته له سجدو د لمونځونو ځخه هم تسبيح ووايه !

تفسير: وروسته له لمانځه ځخه دې څه تسبيح او تهليل وکړ شي، چې هغه عبارت له سنتو لمونځونو او نوافلو ځخه دي، او يا عبارت له هغو اذکارو ځخه دي چې په احاديثو کې راغلي: لکه دري دېرش کرته سبحان الله، دري دېرش کرته الحمد لله، څلوردېرش کرت الله أکبر، او يا داسې نور اذکار او اوراد چې په نصوصو کې راغلی.

وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ مِنْ مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴿۴۱﴾

او واوره غوږ کېږده (ای محمده !) هغه ورځ چې اواز وکړي اواز کوونکی له ځای نژدې نه.

تفسير: وايي چې د بيت المقدس پر تيږي باندې به صور او شپېلۍ پوکل کيږي، نو ځکه يې نژدې ويلي دي، يا يې دا مراد دی چې د هغه غږ به په هر ځای کې له ډېر نژدې څخه اورېده کيږي، او ټول به يو شانې اوري، له صور څخه نور غږونه هم د الله تعالى له لوري اورول کيږي، چې ځينې له دې آيت څخه هم هغه غږونه مرادوي، چې په هغې ورځې کې پرته له صور څخه له ډېر نژدې څخه غوږونو ته رسيږي، خو ښکاره نفخ صور دی، والله أعلم.

يَوْمَ يَسْمَعُونَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوجِ ﴿٤٢﴾

هغه ورځ چې واوري (دغه خلق) سخته چيغه په حقه سره، دا (ورځ د اواز) ورځ د وتلو (له قبورو) نه.

تفسير: کله چې دويم ځلي صور او شپېلۍ پوکله کيږي، نو ځمکه بالکل سره بېرته کيږي، او ګرد مړي ترې ژوندي راوځي، او په ميدان دريږي.

إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ وَإِلَيْنَا الْمَصِيرُ ﴿٤٣﴾

بېشکه همدا مونږ ژوندي کول کوو او مړه کول کوو، او شته خاص مونږ ته راګرځېدل (د ټولو امورو).

تفسير: په هر حال موت او حيات ګرد د الله تعالى په لاس کې دی، او د هر ډول (طريقه) ګرځېدلو پای (آخر) د الله تعالى په لوري دی، هيڅوک له دې څخه نه شي خلاصېدی.

يَوْمَ تَشَقَّقُ الْأَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ذٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴿٤٤﴾

په هغه ورځ چې وچوي ځمکه له دوی څخه په چابکۍ سره، دغه (ژوندي کول) ټولول دي پر مونږ ډېر آسان.

تفسير: ځمکه به چوي، مړي به له هغې څخه راووځي، او د حشر د ميدان په لوري به سره په منډو غونډيږي، الله تعالى به ګرد ډومبي او وروستني مخلوقات سره يو ځای ټولوي، او داسې کول هغه ته کوم لوی کار نه دی.

نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ وَمَا أَنْتَ عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ فَذَكِّرْ بِالْقُرْآنِ مَنْ يَخَافُ وَعِيدِ ﴿٤٥﴾

مونږ ته ښه معلوم دي هغه څه چې وايي يې دوی، او نه يې ته په دوی باندې زور کوونکی (په راوړلو د ايمان)؛ نو پند ورکوه په قرآن سره هغه چاته چې ويريږي له وعيدونو او ويرولو ځما په عذابونو د آخرت سره.

تفسير: هغه خلق چې له حشر څخه منکران دي، هغوی چتې اپلتې کوي، دوی پرېږدئ چې هسې چتې خبرې کوي، او د هغوی معامله مونږ ته راوسپارئ، مونږ ته دوی ګرد معلوم دي، او په هغو خبرو مونږ ښه پوهيږو چې دوی يې وايي، ستاسو دا کار نه دی چې په زور او زياتی سره په هر سړي باندې هره يوه خبره ومنئ، هو ! هغوی ته قرآنکريم واوروئ !، او مخصوصًا هغوی ته نصيحت او لار ښوونه وکړئ !، چې د الله تعالى څخه وويريږي، او په دې معاندينو پسې ډېره زياته هڅه مه کوئ !.

تمّت سورة (ق) بتوفيقه تعالى.

سُورَةُ الذَّارِيَاتِ

«د (الذّاريات) سورت مکي دی، (٦٠) آيتونه او درې رکوع لري، په تلاوت کې (٥١) او په نزول کې (٦٧) سورت دی، وروسته د (الأحقاف) له سورت نه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَالذَّارِيَاتِ ذَرْوًا ﴿١﴾ فَالْحَامِلَاتِ وِقْرًا ﴿٢﴾ فَالْجَارِيَاتِ يُسْرًا ﴿٣﴾ فَالْمُقَسِّمَاتِ أَمْرًا ﴿٤﴾

قسم دی په هغو بادونو باندې چې تيتوي (الوځوي) خاورې او نور شيان په الوتلو خپلو سره. پس قسم دی په ورېځو پورته کوونکيو د اوبو درنو سره. پس قسم دی په کشتيو تلونکيو په نرمۍ سره په سر د اوبو. پس قسم دی په (ملائکو) قسمت کوونکو د کارونو لويو په حکم د الله سره «لکه ارزاق باران او داسې نور».

تفسير: ډومبی ډېر سخت بادونه او سيلې الوځي، چې د هغو له دوړو اوغبار څخه ورېځې پورته کيږي، بيا له هغو څخه اوبه جوړيږي، او هغه پيتې پورته ګرځي، بيا د ورېدلو په وخت کې سپکه هوا چليږي، بيا د الله تعالى له حکم سره سم د هرې سيمې هومره ورښ چې په برخه يې وي؛ هغه ورويشل کيږي، پر دې هواو باندې الله تعالى قسم خوري، ځينې عالمان له (ذاريات) څخه هواوې، له (حاملات) څخه ورېځې، او له (جاريات) څخه ستوري، او له (مقسمات) څخه پرښتې مرادوي، ګواکې د مقسم په ترتيب له ښکته والي څخه د پورته په لوري شوی دی، له عليّ (رضي الله تعالى عنه) او نورو څخه روايت دی چې (ذاريات) هواوې، (حاملات) ورېځې، (جاريات) بېړۍ، او (مقسمات) هغه پرښتې دي چې د الله تعالى په حکم خواړه او نور شيان تقسيموي، ځواب د قسم دا دی چې:

إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ ﴿٥﴾ وَإِنَّ الدِّينَ لَوَاقِعٌ ﴿٦﴾

بېشکه هغه چې له تاسو سره يې وعده کاوه شي چې هغه عبارت دی له ژوندي کولو پس له مرګه ځنې؛ خامخا يوه وعده رښتيا ده. او بېشکه چې جزاء د عمل خامخا واقع کېدونکې او راتلونکې ده (نو ځانونه ورته ښه تيار کړئ !).

تفسير: دا د هواوو او ورښو او نورو شيانو نظام ښه شاهد او ښوونکی دی، چې د آخرت وعده رښتيا ده، او د دنيا د امورواتو فيصله کول په عدل او انصاف سره هم ضروري دي، کله چې په نړۍ کې يو باد، ورښ، هوا هم بې له نتيجې نه ښوري، نو آيا دا دومره لويه کارخانه به څرنګه بې له کومې نتيجې پخپل سر ګرځي؟ خامخا دوی لره به هم کومه عظيم الشأنه نتيجه وي، چې هغه ته مونږ آخرت وايو.

وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْحُبُكِ ﴿٧﴾

او (قسم دی) په اسمان خاوند د لارو، خلقي وو، مزينو.

تفسير: په صاف، مضبوط او ډېر ښه رونق لرونکي اسمان باندې قسم دی، چې پر هغه باندې د ستوريو جال لوېدلی رابښکاري، او په هغه کې د ستوريو او پرښتو لارې شته، جواب د قسم دا دی چې:

إِنَّكُمْ لَفِي قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ﴿٨﴾ يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ ﴿٩﴾

بېشكه تاسې يئ اى مشركانو ! خامخا په يوه خبره مختلفه ګډه وډه كې. ګرځول كاوه شي له دغه (نبي، قرآن او ايمان ځنې په هغوى سره) هغه څوك چې ګرځولى شوى دى له هدايته په علم د الله كې.

تفسير: د قيامت او د آخرت خبرې هرومرو ستاسو د جګړو مورد ګرځېدلي دي، دا هغه سړى مني، چې د رُبوبيت له دربار سره څه تعلّق ولري، هغه چې له دې درباره رټلى او شړلى وي؛ د خير او د سعادت له لارې څخه ګرځېدلى وي، نو هغه د دې شيانو له تسليم او منلو او قبلولو څخه تل بې برخې پاتې كيږي، كه دوى يواځې د اسمان په نظم او نسق باندې فكر وچلوي، او غور وكړي؛ نو يقين يې راځي چې په هسې خبرو كې جګړې كول ناپوهي او حماقت دى.

قُتِلَ الْخَرَّاصُونَ ﴿١٠﴾

لعنت كړى شوى دى پر دروغ ويونكيو، اټكل كوونكيو باندې.

تفسير: په دوى ځكه لعنت شوى دى، چې دوى د دين په خبرو كې اټكلونه وهي، او پخپل ګمان او اټكل سره د قطعيّاتو تردید كوي.

الَّذِينَ هُمْ فِي غَمْرَةٍ سَاهُونَ ﴿١١﴾

هغه كسان چې دوى په نهايت غفلت كې سهو كوونكي غافل او بېخبره دي (له قيامت نه).

تفسير: د دنيا د چړچو او د مزو لامله دوى له الله تعالى څخه او آخرت نه بالكل غافل شوي دي.

يَسْأَلُونَ أَيَّانَ يَوْمُ الدِّينِ ﴿١٢﴾

سوال كوي منكران (تمسخرًا له محمد نه) چې كله به وي ورځ د انصاف (او د جزاء).

تفسير: د انكار او خندا په ډول پوښتنې كوي: ښه ! خانه ! هغه د عدل او د انصاف ورځ كله راځي؟ او دومره ولې وځنډېده؟ نو فرمايي الله أكرم شأنه وأعظم برهانُه په ځواب د دوى كې چې: واقع به شي دا جزاء.

يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ يُفْتَنُونَ ﴿١٣﴾ ذُوقُوا فِتْنَتَكُمْ هَٰذَا الَّذِي كُنتُم بِهِ تَسْتَعْجِلُونَ ﴿١٤﴾

هغه ورځ چې دوى په اور باندې معذّب شي. (ورته وبه ويل شي): وځكئ تاسې (خوند د) عذاب ستاسې، دا دى هغه (عذاب) چې وئ تاسې چې په جلتي سره مو غوښت دغه عذاب په دنيا كې.

تفسير: دا د الله تعالى له لوري هغوى ته جواب ورکړى شوى دى، چې لږ صبر وكړئ !، هغه ورځ راتلونكې ده، كله چې تاسې په اور كې سره سم او كاږه واږه ولوېږئ، او ښه په كې وسوځئ !، نو هلته به تاسې ته وويل شي: واخلئ وځكئ دا مو د شرارت او استهزاء مزه او خوند او دا ده هغه ورځ چې تاسې ژر غوښتله درغله.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٥﴾ آخِذِينَ مَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ

بېشكه ويريدونكي له الله او ځان ساتونكي له معاصيو به په جنت كې وي، او په چينو كې به وي، يعنې څښونكي د اوبو د دې چينو به وي. اخيستونكي به وي هغو نعمتونو لره چې ورکړى وي دوى ته رب د دوى.

تفسير: په ډېره خوښۍ هغه نعمتونه قبلوي چې الله تعالى دوى ته وربښلي ، چې يو له هغې څخه انواع د چينو دي: لكه سلسبيل: ﴿عَيْنًا فِيهَا تُسَمّٰى سَلْسَبِيلًا﴾ «الدهر»، تسنيم: ﴿وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسْنِيمٍ * عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ﴾ «المطففين»، جارية: ﴿فِيهِمَا عَيْنَانِ جَارِيَتَانِ﴾ «الغاشية».

إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِينَ ﴿١٦﴾

بېشكه دوى وو پخوا له دې څخه يعنې په دنيا كې محسنان او نيكي كوونكي.

تفسير: له دنيا څخه سره له ډېرو ښېګڼو (فائدو) راغلى وو، نن د هغو ښېګڼو مېوه مومي، وروسته له دې د ښېګڼو لږ څه تفصيل هم راځي.

كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ﴿١٧﴾ وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿١٨﴾

وو به دوى (په دغه وصف) چې لږ برخه د شپې كې به اوده كېدل، او په اكثره د شپې كې به يې عبادت كاوه. او په وخت د چرګ بانګ (له سبا ختو نه مخكې) كې دوى مغفرت غوښت له الله نه د ګناهونو خپلو.

تفسير: د شپې زياته برخه د الله تعالى په عبادت كې تېروي، او د چرګ بانګ (له سبا ختو څخه مخكې) په وخت كې كله چې شپه پاى (آخر) ته ورسيږي؛ له الله تعالى څخه د خپلو تقصيراتو بښنه غواړي.

وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ﴿١٩﴾

او په مالونو د دوى كې حق او برخه وه سوالګرو لره، او صبر كوونكو لره (يعنې مسكين سوال نه كوونكي لره).

تفسير: محروم هغه اړ او محتاج دى، چې له هيڅا څخه هيڅ شى نه غواړي، مطلب يې دا دى چې دوى برسېره پر «زكات» له خپلو مالونو او شتو څخه پخپلې خوښې سره سائلانو او محتاجانو ته برخې ټاكي، چې د التزام لامله ګواكې حق ورته وايه شي، او اغنياء بايد د داسې محتاجانو د حال نه خبر وي، چې دوى له شرم او غيرت نه له چا څخه څه نه غواړي.

وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِّلْمُوقِنِينَ ﴿٢٠﴾ وَفِي أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٢١﴾

او په ځمكې كې علامې او نښې دي د قدرت د الله تعالى يقين لرونكو لره. په نفسونو او ځانونو ستاسې كې هم علامې د عبرت دي، آيا نو تاسې يې نه وينئ، چې تر پند واخلئ.

تفسير: له دغو نښو د قدرتونو د الله تعالى څخه چې په آفاقي او انفسي، يعنې په ځان او جهان كې شته، كه سړى پخپل ځان يا د ځمكې د مخې د موجوداتو په احوالو باندې فكر او غور وكړي؛ نو دا تفكّر او تعمّق هر انسان په دې متيقن كوي چې د هرو نېكو او بدو جزاء په هر ډول چې وي، ضرور رسېدونكې ده.

وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ ﴿٢٢﴾

او په اسمان كې دى (سبب د) رزق ستاسې چې (باران دى)، او هغه چې له تاسو سره يې وعده كړى شوې ده (د ثواب او عقاب).

تفسير: په سائلانو او محتاجانو باندې له لګولو څخه مه ویرېږئ، په دې معنا چې که مونږ خپل مال، اقرباء او فقیرانو ته ورکړو؛ نو له کومه به یې بیا وخورو، او مه په لګولو سره په مساکینو باندې څه منّت او احسان ږدي، ځکه چې مونږ ستاسې ګردو روزي، اجر او ثواب سم له کړې شوې وعدې سره درکوو، او د هر یوه روزي رسېدونکې ده، هیڅوک یې مخه نشي نیولی، او لګونکي لره به ډېر احترام اجر او ثواب نور هم ورزیږي.

فَوَرَبِّ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ إِنَّهُۥ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَآ أَنَّكُمْ تَنطِقُونَ ﴿٢٣﴾

نو قسم دی وي ځما په رب د اسمان او ځمکې باندې، بېشکه دا خبره چې وعده یې کړې شوې ده؛ خامخا حقه او رښتیا ده، په مثل د هغې حقیقت او واقعیت چې تاسو پرې خبرې کوئ.

تفسير: هسې چې ستاسې په وینا کې څه شک نشته، هم هغسې په دې خبرې کې هم څه شُبهه نشته، په یقین سره دا ورځ رسېدونکې ده، او د قیامت لویه ورځ درېدونکې ده، آخرت راتلونکی دی، او د الله تعالی ګردې وعدې پوره کېدونکې دي.

هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَٰهِيمَ ٱلْمُكْرَمِينَ ﴿٢٤﴾

آیا رسېدلې او راغلې ده تاته (ای محمّده) خبر د مېلمنو د ابراهیم چې مکرمان او عزتمندان وو (په نزد د الله).

تفسير: دا مېلمانه هغه پرښتې وې چې په اوله کې ابراهیم په هغوی باندې د بني آدمانو ګمان کړی وو.

إِذْ دَخَلُوا۟ عَلَيْهِ فَقَالُوا۟ سَلَٰمًا ۖ قَالَ سَلَٰمٌ ۖ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴿٢٥﴾

کله چې ننوتلې دغه (پرښتې) پر دغه (ابراهیم)؛ نو وی ویل (سلام کوو مونږ پر تا) په سلام کولو سره، وویل (ورته ابراهیم چې) سلام دې وي پر تاسو (او په زړه کې یې دغه تېره شوه چې دوی یو) قوم ناآشنا دي.

تفسير: د سلام ځواب یې په سلام سره ورکړ، او پخپلو زړونو یا په خپلو منځونو کې یې سره وویل: چې دوی خو اوپره او ناپېژندلي سړي راښکاري.

فَرَاغَ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ ﴿٢٦﴾ فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٢٧﴾

پس ورغی (ابراهیم) کور خپل ته نو رایې وړ یو خوسی (سخی) تیار وریت کړی؟ نو ورنژدې یې کړ هغوی ته ویې ویل: ولې نه خورئ (یعنې وخورئ ترې).

تفسير: په ډېر اهتمام سره یې په مېلمستیا لاس پورې کړ، او په ډېر تهذیب او خوږه ژبه یې دوی ته وفرمایل: ګرانو مېلمنو ! ولې تاسو ډوډۍ نه خورئ؟»، کله چې هغوی پرښتې وې، او خواړه یې نه وو پکار؛ نو دوی ورته وویل چې: نه یې خورو.

فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۖ قَالُوا۟ لَا تَخَفْ ۖ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٍ ﴿٢٨﴾

پس پټه کړه (ابراهیم) په زړه کې له دوی نه وېره. ورته وویل دوی: مه ویرېره (مونږ لېږلې شوي د رب ستا یو)، او زېری یې ورکړ ده ته په یوه هلک ښه عالم هوښیار سره.

تفسير: دلته ابراهيم عليه السلام وپوهېده چې دوی بې آدمان نه دي، بلکه ملائکې دي، دا قصه پخوا له دې ځخه په تفصيل سره د (هود) په سورت او د (حجر) په سورت کې تېره شوې ده، هلته دې وکتله شي.

فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوزٌ عَقِيمٌ ﴿٢٩﴾

پس مخ يې وروړاو ښځې د ده په غږ د حيرانتيا سره؛ نو ويې واهه مخ خپل (په ځپړو)، وويل دې چې: زړه بوډی يمه شنډه (نو څرنګه به وځېږوم زه ځوی؟).

تفسير: بې بې ساره رضي الله تعالى عنها چې يوه ګوټ کې ولاړه وه، د هلک د ځېږېدلو د زيري له اورېدلو ځخه په چغو سر شوه، او بلې خوا ته متوجّه شوه، او له ډېره تعجّبه يې په ځپړو خپل مخ ووهه، او ويې ويل: «دا څرنګه د منلو وړ خبره ده، چې يوه هسې زړه بوډی او شنډه ښځه لنګه شي، چې په ځوانۍ کې يې اولاد نه دی شوی، او اوس چې ډېره زړه او کړوپه شوې ده؛ د هلک مور شي؟».

قَالُوا كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ ۖ إِنَّهُ هُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ ﴿٣٠﴾

وويل دغو (ملائکو) همداسې (لکه چې بشارت مو درکړ) ويلي دي رب ستا، بېشکه هغه (الله) ښه حکمت والا ښه خبردار دی.

تفسير: مونږ دا خبره له ځانه نه وايو، بلکه ستاسې پروردګار همداسې فرمايلي دي، او هم هغه پاک الله ته دغه ښه معلوم دي چې چا ته څه شی؟ او په کوم وخت کې ورکړ شي؟، او بيا تاسې سره له دې چې د نبوّت له کورنۍ ځخه يئ؛ نو ولې په دې زيري باندې تعجّب کوئ؟.

تنبيه: له ګردو آيتونو ځخه دا راښکاري چې دا هلک اسحاق عليه السلام دی، چې د هغه زېږی مور او پلار دواړو ته ورکړی شوی دی.

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ﴿٣١﴾

وويل (ابراهيم) نو څه کار (شان) دی ستاسې ای مرسلانو؟ (رالېږليو شويو د الله له جانبه).

تفسير: يعنې ابراهيم عليه السلام له پرښتو ځخه پوښتنه وکړه چې آخر تاسې د څه لپاره راغلي يئ؟ ښايي چې له قرينې ځخه پوهيدلي وي چې دوی د کوم ضروري او اهمّ مقصد لپاره راغلي دي.

قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمٍ مُجْرِمِينَ ﴿٣٢﴾ لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِنْ طِينٍ ﴿٣٣﴾

وويل دوی: بېشکه مونږ چې يو رالېږلې شوي يو طرف د يوه قوم ګنهګار (کافر) ته. لپاره د دې چې وليږو پر هغوی باندې تيږي (ګټې) له خټو (پخو شوو په اور کې لکه پخې خښتې).

تفسير: يعنې د لوط عليه السلام د قوم د سزا ورکولو لپاره ورلېږلې شوي دي، تر څو يې د کنکرو د ډېرو په ورولو سره ووژنو.

مُسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِينَ ﴿٣٤﴾

نښان داره کړی شوې (په نامه د هغه چا چې پرې ويشتل کيږي) په نزد د رب ستا لپاره د مسرفانو له حده تېرېدونکو (په کفر او فجور کې، لپاره د هلاک کولو).

تفسير: يعني د الله تعالى له خوا په هغه باندې ننبې لګولی شوي دي (پر هرې ګټې باندې يې د هغه چا نوم ليکلي وو چې پرې ويشتلی کېده او هلاکېده)، دا د عذاب کانې يواځې پر هغوی باندې لګيږي، چې د عقل، دين او د فطرت له حدوده وتلي دي.

فَأَخْرَجْنَا مَن كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٣٥﴾ فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٣٦﴾

بيا راوويستل مونږ هغه څوک چې وو په دې کليو کې له ايمان لرونکو څخه. پس بيا ونه مونده مونږ په دغو کليو کې پرته له يوه کوره د مسلمانانو (د لوط) او کورنۍ د ده.

تفسير: يعني په هغه کلي کې يواځې لوط عليه السلام کورنۍ د مسلمانانو يو کور وو، چې مونږ هغه له عذابه وژغوره (وساته)، او ټول هستېدونکي يې روغ رمټ پاتې شول، او نور ټول سره هلاک او فناء شول.

وَتَرَكْنَا فِيهَا آيَةً لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿٣٧﴾

او پرېښوده مونږ په (هلاکت) د دغو (کليو) کې يوه نښه (لويه د عبرت د هلاکت) لپاره د هغو کسانو چې ويريږي له عذاب دردناک څخه چې له بدو څخه ځان وژغوري (وساتي).

تفسير: يعني تر اوسه هلته د تباهۍ علائم او ننبې شته، او د دوی دغه ويروونکي وژل ويريدونکيو لره لوی عبرت دی، او په دې قصې کې د عبرت او نصيحت سره پندونه ليدل کيږي.

وَفِي مُوسَىٰ إِذْ أَرْسَلْنَاهُ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾ فَتَوَلَّىٰ بِرُكْنِهِ وَقَالَ سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ ﴿٣٩﴾

او (پرېښې دي مونږ ويريدونکيو ته علامې د قدرت) په (قصې د) موسی کې کله چې ور ومولېږه دغه (موسی) طرف د فرعون ته په برهان واضح دليل سره (يعني سره له معجزې او براهين). بيا نو مخ واړاوه (فرعون له ايمان راوړو) سره له قوّت زور او لاولښکر خپل، او وويل (فرعون چې دغه) موسی کوډګر دی يا لېونی دی.

تفسير: يعني فرعون پخپل زور او قوّت باندې مغرور شوی، د حق له لارې څخه يې مخ واړاوه، او د دولت ارکان او ټبر يې هم له خپل ځان سره يو ځای ډوب کړل، فرعون به ويل چې: «موسی يا يو ګرندی کوډګر دی، يا لېونی دی، او له دغو دوو خبرو څخه خالي نه دی».

فَأَخَذْنَاهُ وَجُنُودَهُ فَنَبَذْنَاهُمْ فِي الْيَمِّ وَهُوَ مُلِيمٌ ﴿٤٠﴾

نو ونيوه مونږ دغه (فرعون) او لښکر د ده، نو وغورځول مونږ دوی په سيند کې (نو غرق شول)، او هغه ملامته کړی شوی وو.

تفسير: يعني مونږ په هغوی باندې څه زياتی نه دی کړی، هغوی پخپله ګرم او ملزم دي، چې ولې يې کفر او غاړه غړول، او سرکشي غوره کوله، او سره له پوهولو هم ونه پوهېدل، آخر هغه چې کرلي يې وو؛ ويې رېبل.

وَفِي عَادٍ إِذْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيحَ الْعَقِيمَ ﴿٤١﴾ مَا تَذَرُ مِن شَيْءٍ أَتَتْ عَلَيْهِ إِلَّا جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيمِ ﴿٤٢﴾

او (پرېښې دي مونږ علامې د قدرت) په (قصې د) عاد کې کله چې ومولېږه پر دوی باندې باد شنله. نه به پرېښوده (دغه باد) هيڅ شی (له نفس او مال) چې وابه لوت په هغه باندې، مګر خو وبه يې ګرځاوه لکه وچ زوړ رژېدلي (واښه ټوټې ټوټې).

تفسير: يعني د عذاب هغه سخته سيلې راوالوته، چې له سېلمې له خير او برکته تشه وه، او د مجرمانو سټه يې وويسته، او په هر شي باندې چې الوته؛ د هغه دوړې به يې ايستلې.

وَفِي ثَمُودَ إِذْ قِيلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوا حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٤٣﴾

او (پريښي دي مونږ علامې د قدرت) په (قصې د) ثمود کې کله چې وويل شو دوی ته: نفع واخلئ تر يوه وخته (د راتللو د عذاب) پورې.

تفسير: يعني صالح عليه السلام ثموديانو ته وفرمايل: «ښه ده، څو ورځې نور هم د دنيا مزې وڅکئ !، او د دې ځای سامان درغونه کړئ !، په پای (آخر) کې به د الله تعالى په عذاب کې اخته شئ».

فَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ فَأَخَذَتْهُمُ الصَّاعِقَةُ وَهُمْ يَنظُرُونَ ﴿٤٤﴾ فَمَا اسْتَطَاعُوا مِن قِيَامٍ وَمَا كَانُوا مُنتَصِرِينَ ﴿٤٥﴾

نو سر يې وغړاوه له امره حکمه د رب خپل؛ نو ونيول دوی ټکې (د تندر عذاب هلاک کوونکي)، او دوی به (ورته) کتل. نو بيا نه توانېدل دوی چې پورته شي (وتښتي له عذاب د الله څخه)، او نه وو دوی بدل اخيستونکي (له مونږه، مقابله کوونکي له عذاب الله سره).

تفسير: يعني د دوی شرارت ورځ په ورځ پسې زياتېده، آخر د الله تعالى عذاب راغی، يوه سخته ټکه (تندر) ولوېده، او په يوې کتنې هغوی ټول يخ پخ شول، د دوی د يوه له لاسه دومره ونه شو چې له سرکردانۍ څخه وروسته له خپل ځای څخه وخوځيږي، نو دوی به څرنګه انتقام او بدل اخلي؟ او څه ډول به نور خپلو مرستو (مدد) ته وغوښتی شي؟.

وَقَوْمَ نُوحٍ مِّن قَبْلُ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ ﴿٤٦﴾

او (هلاک کړی وو مونږ) قوم د نوح پخوا له دې (اهلاک د دې قومونو)، بېشکه دوی وو قوم فاسقان وتونکي له فرمان.

تفسير: يعني له دې قوم څخه پخوا د نوح عليه السلام قوم د خپل بغاوت او سرکښۍ په سبب تباه شوی دی، ځکه چې هغوی په نافرمانۍ کې له حده تېری کړی وو.

وَالسَّمَاءَ بَنَيْنَاهَا بِأَيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴿٤٧﴾

او اسمان موجود کړی دی مونږ په خپل قدرت سره، او بېشکه مونږ خامخا پراخوونکي يو (او هر شی مو له واک (اختيار) او قدرته پوره دی).

تفسير: يعني الله تعالى اسمان غوندې يو لوی څيز پخپل قدرت او قوّت سره پيدا کړي دي، او هغه ته له اسمان او له ځمکې څخه د نورو لويو شيانو پيدا کول هيڅ مشکل نه دي.

وَالْأَرْضَ فَرَشْنَاهَا فَنِعْمَ الْمَاهِدُونَ ﴿٤٨﴾

او ځمکه غوړولې ده مونږ، نو ښه غوړوونکي يو مونږ.

تفسير: يعني اسمان او ځمکه ټول د الله تعالى پيدا کړي اجسام دي، او هغه ټول د الله تعالى په واک او قبضه کې دي، نو د دې مجرم به چېرې وتښتېدی شي؟ او کوم ځای ته به پناه يوسي؟.

وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٤٩﴾

او له هر څيز څخه پيدا کړي دي مونږ جوړې دوه قسمه (نر ـ ښځه) لپاره د دې چې تاسې پند واخلئ (پوه شئ چې فرديت او وحدانيت يواځې د الله صفت دی).

تفسير: يعني پيدا کړي دي مونږ نر او ښځه لکه چې «ابن زيد» ويلي دي، او نن نوي حکماء هم په هغه باندې اعتراف کوي، چې په هرې نوعې کې د نر او ښځې تقسيم شته، يا له (زوجين) څخه متقابل او متضاد شيان مراد دي، لکه شپه ورځ، اسمان ځمکه، رڼا تياره، تور سپين، روغتيا ناروغتيا، ايمان کفر، او د دوی په شان نور، پس ووايه ای محمده ! دوی ته داسې چې:

فَفِرُّوا إِلَى اللَّهِ إِنِّي لَكُمْ مِنْهُ نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿٥٠﴾ وَلَا تَجْعَلُوا مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ إِنِّي لَكُمْ مِنْهُ نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿٥١﴾

او وتښتئ (رجوع وکړئ) په طرف د الله (په طاعت سره)، بېشکه زه تاسې ته له طرفه د هغه (الله) ويروونکی ښکاره يم. او مه ګرځوئ مه شريکوئ تاسې له الله سره بل څوک معبود، بېشکه زه تاسې ته له طرفه د هغه (الله) ويروونکی ښکاره يم.

تفسير: يعني کله چې اسمان او ځمکه او ګرد کائنات د واحد الله تعالى پيدا کړي شيان دي، او د هغه تر واک او حکومت لاندې دي، نو بنده لره ښايي چې له هرې خوا څخه لرې شي !، او د هغه لوري ته په منډه وروځغلي !.

كَذَٰلِكَ مَا أَتَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا قَالُوا سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ ﴿٥٢﴾

همداسې (لکه چې وايي تاته قوم د تا ساحر، مجنون) نه دی راغلی هغو کسانو ته پخوا له دوی څخه هيڅ رسول؛ مګر خو ويل هغوی چې: (دی) ساحر کوډګر دی، يا مجنون لېونی دی.

تفسير: يعني که داسې ښکاره تنبيه او انذار ته دا منکران غوږ نه ږدي؛ نو مه غمجن کېږئ !، له دوی څخه پخوا هغو کافرو قومونو ته چې پيغمبران ورتلل؛ هغوی ته به يې همداسې کوډګر او لېونی ويل، او د هغوی په پندونو او نصيحتونو باندې به يې خندل، او ملنډې به يې پرې وهلې.

أَتَوَاصَوْا بِهِ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴿٥٣﴾

آيا وصيت کړی دی دوی يو بل ته په دې خبرې سره؟ (نه) بلکه همدوی دي قوم سرکښان.

تفسير: يعني د هرې زمانې کافران په دې خبرې باندې همداسې متّفق اللّفظ وو، لکه چې دوی يو بل ته وصيت کړی وي، او بيا مړه شوي وي، چې د الله هر يو رسول چې راشي؛ ښايي چې هغه ته ساحر يا مجنون ووايي، او په واقع کې به يې کله وصيت کاوه؟ هو ! د شرارت په عُنصر کې ګرد سره شريکان او مل دي، او د همدې اشراک لامله پخوانيو شريرانو هم هغسې خبرې کړي دي لکه چې اوسني شريران يې هم کوي.

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَا أَنْتَ بِمَلُومٍ ﴿٥٤﴾ وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرَىٰ تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٥٥﴾

پس مخ وګرځوه ته له دوی څخه، پس نه يې ته هيڅ ملامت کړی شوی (ځکه چې پوره تبليغ دې کړی دی)، او تل نصيحت کوه، پس بېشکه چې ذکر پند ګټه نفعه رسوي مؤمنانو ته.

تفسير: يعني تاسې د تبليغ او دعوت فرض هسې چې ښايي؛ اداء کړي دي، اوس د زيات غمجن کېدلو او فکر وهلو ضرورت نشته، په نه منلو باندې کوم الزام چې راتلونکی دی؛ هغه پر هم دغو نه منونکيو او معاندينو باندې دی، هو ! پوهول ستاسې کار دی، نو دا د پوهولو سلسله جاري ولرئ !، د هر چا په قسمت او برخه چې ايمان وي؛ هغه ته دا پوهول نافع او ګټور واقع کيږي.

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾

او نه دي پيدا کړي ما پيريان او انسانان مګر لپاره د دې چې عبادت وکړي دوی ځما.

تفسير: شيخُ الهند (رحمه الله) د دې آيت ترجمه داسې کوي: او هر څه چې مو پيدا کړي دي، جن او آدمي خو لپاره د بندګۍ خپلې، يعني د هغو له پيدا کولو څخه شرعًا بندګي مطلوبه ده، نو ځکه خلقتًا په دوی کې داسې استعداد اينبود شوی دی، چې که وغواړي؛ پخپل اختيار د بندګۍ په لاره کې تلی شي.

مَا أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ ﴿٥٧﴾ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ ﴿٥٨﴾

او اراده نه لرم زه له دوی څخه د هيڅ رزق روزي (ما لره او ځانونو خپلو ته)، او اراده نه لرم زه د دې چې طعام راکړي ما لره دوی (او ځانونو خپلو ته). بېشکه الله همدی ښه رزق روزي ورکوونکی دی، ځېښتن (خاوند) د قوّت محکم مضبوط دی.

تفسير: يعني د دوی له بندګۍ څخه ماته هيڅ ګټه نه رارسيږي، بلکه د همدوی ګټه په کې ده، زه له دوی څخه رزق او خواړه او نورې ګټې نه غواړم، بلکه هغوی ته زه پخپله خواړه او ګټې ورکوم.

فَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذَنُوبًا مِّثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَابِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُونِ ﴿٥٩﴾

پس بېشکه هغو کسانو لره چې ظلم يې کړی دی (په نفسونو خپلو، او په بل چا) حصه د عذاب ده، پشان د حصې د عذاب د يارانو هلاک کړی شوو د دوی، پس تلوار دې نه کوي دوی ! (په ما باندې په غوښتلو د عذاب کې، که يې چېرې وروستی کړم).

تفسير: يعني که دا ظالم د بندګۍ په لوري نه درومي، نو وپوهېږئ چې د نورو ظالمانو په شان د ده سلواغه او بوکه هم له کفر او شرک څخه ډکه ده، او اوس ډوبيږي، نو خامخا د هغوی په ژر سزا ورکولو کې تلوار مه کوئ، لکه چې نورو کفّارو ته له الهي سزا څخه برخه رسېدلې ده؛ دوی ته هم رسيږي.

فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا مِن يَوْمِهِمُ الَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٦٠﴾

پس افسوس هلاکت خرابي سخت عذاب دی هغو کسانو ته چې کافران شوي دي له ورځې د عذابه د دوی څخه، هغه ورځ چې وعده يې ورسره کړی شوې ده.

تفسير: يعني د قيامت په ورځ يا له هغې څخه به پخوا د سزا کومه بل ورځ راځي، لکه چې د مکې مشرکانو ته د «بدر» په غزا کې سخته سزا ور ورسېده.

تمّت سورة الذاريات، ولله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الطُّورِ

«د (الطور) سورت مکّي دی، (۴۹) آيتونه (۲) رکوع لري، په تلاوت کې (۵۲) او په نزول کې (۷۶) سورت دی، وروسته د «السجدة» له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَالطُّورِ ﴿١﴾

قسم دی په (غره د) طور باندې.

تفسير: يعنې د «طور» غر چې په هغه باندې موسی عليه السلام له الله تعالی سره خبرې اترې کولې، يا به ترې مراد مطلق غرونه وي، ځکه چې د ځمکې مېخونه دي، او په کې د مخلوقاتو لوی منافع دي، او په دوی کې د الله تعالی أكرم شأنُه وأعظم برهانُه لوی لوی نعمتونه دي.

وَكِتَابٍ مَّسْطُورٍ ﴿٢﴾ فِي رَقٍّ مَّنشُورٍ ﴿٣﴾

او په کتاب ليکلي شوي باندې. په کاغذ ارت خور کړی شوي کي.

تفسير: له دې کتاب څخه ښايي لوح محفوظ مراد وي، يا د خلقو اعمالنامې، يا قرآنکريم يا د طور په مناسبت «تورات» يا عام سماوي کتابونه مراد دي، دا ټول احتمالات شته.

وَالْبَيْتِ الْمَعْمُورِ ﴿٤﴾

او (قسم دی) په کور معمور ودان کړی شوي باندې (په اسمان کې).

تفسير: ښايي چې له دې څخه کعبه شريفه مراد وي، يا د کعبې له محاذ سره سم په اووم اسمان کې د پرښتو کعبه ده، چې هغې ته بيت المعمور وايي، لکه چې له احاديثو څخه ثابته ده.

وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوعِ ﴿٥﴾

او قسم دی په چت پورته کړی شوي باندې (چې اسمان دی).

تفسير: يعنې په اسمان باندې قسم دی چې پر ځمکې باندې لکه چت داسې دی، يا به له «السقف المرفوع» څخه عرش عظيم مراد وي، چې له ګردو اسمانونو څخه هسک (اوچت) دی، او له روايتونو څخه ښکاري چې هغه د جنّت چت دی.

وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ ﴿٦﴾

او (قسم دی) په بحر سيند تود يا ډک کړی شوي باندې.

تفسير: يا به د دنيا كوړم او خارخوري سيندونه (درياهای جوشان) مراد وي، يا به هغه سيند مقصد وي چې د ځردو اسمانونو د پاسه او تر عرش عظيم لاندې بهيږي، او له روايتونو څخه ثابت شوی دی، ځواب د قسم دا دی چې:

إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ۝٧ مَّا لَهُ مِن دَافِعٍ ۝٨

بېشکه عذاب د رب ستا خامخا واقع کېدونکی دی (په مستحق يې). نشته هغه لره هيڅوک دافع لرې کوونکی.

تفسير: يعنې دا ځرد شيان چې قسم پرې ياد شو شهادت ورکوي چې الله تعالى ډېر يو قوّت او قدرت لرونکی او باعظمت ذات دی، نو په هغو کسانو باندې به چې د ده احکام نه مني؛ ولې سخت عذابونه نه راځي؟ او کوم يو داسې طاقت به پيدا شي چې د هغه د راليږلي شوي عذاب مخه ونيسي؟.

يَوْمَ تَمُورُ السَّمَاءُ مَوْرًا ۝٩

هغه ورځ چې وخوځيږي اسمان په خوځېدلو سره.

تفسير: يعنې اسمان به ولړځيږي، او د ډېرو خوځېدلو او لړځېدلو لامله به وشليږي، وبه چوي.

وَتَسِيرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ۝١٠

او روان به شي غرونه په راونېدلو سره.

تفسير: يعنې غرونه به له خپلو ځايونو څخه وخوځيږي، او پاغوندو غوندې به يوې خوا او بلې خوا ته رغړي، او د ورېځو په شان به يوه او بل لوري ته درومي.

فَوَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ۝١١ الَّذِينَ هُمْ فِي خَوْضٍ يَلْعَبُونَ ۝١٢

نو خرابي افسوس هلاکت دی په دغه ورځ کې دروغجن کوونکيو ته. هغو لره چې دوی په چټې خبرو جوړولو کې لوبې مشغولتيا کوي.

تفسير: يعنې چې نن په لوبو تماشو او نندارو کې مشغوليږي، او راز راز خبرې جوړوي، او د لوبې ورځې تکذيب کوي، هغوی لره به د آخرت په ورځ کې سخته سزا ورکوله کيږي، او پرته له خرابی او تباهی به بل کوم شی نه وررسيږي.

يَوْمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ۝١٣ هَٰذِهِ النَّارُ الَّتِي كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ۝١٤

هغه ورځ چې ټېل وهلی به شي دوی اور د دوزخ ته په ټېل وهلو سره. (وبه ويلی شي دوی ته) دا دی هغه اور چې وئ تاسې چې په دې به مو دروغ ويل (يعنې ترې منکران وئ).

تفسير: يعنې پرښتې به له هغوی سره په سخت ذلّت او خواری معامله کوي، او په ټېل وهلو سره يې تر دوزخ پورې بيايي، او هلته ورته وايي: دا دی حاضر او تيار دی هغه اور چې تاسې به هغه دروغ ګڼله.

أَفَسِحْرٌ هَٰذَا أَمْ أَنتُمْ لَا تُبْصِرُونَ ۝١٥

آيا پس سحر کوډې دي دا (عذاب چې وينئ تاسو)؟ که يئ تاسې چې نه يې وينئ؟

تفسير: يعنې تاسې به په دنيا کې انبياء عليهم السلام ته کوډګر (ساحر) او د هغوی وحي ته به مو کوډې (سحر) ويلې، اوس نو لږ څه راوښيئ چې دا دوزخ چې د هغه خبر تاسې ته انبياوو عليهم السلام درکړی وو؛ آيا په رښتيا سره جادو کوډې يا نظربندي ده؟ يا دا چې په دنيا کې ستاسې سترګې د حق له ليدلو څخه عاجزې وې، او نه مو شوې لېدلې، دلته هم د دوزخ د اور له ليدلو څخه عاجزې دي؟.

اِصْلَوْهَا فَاصْبِرُوْٓا اَوْ لَا تَصْبِرُوْا سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ ؕ اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿١٦﴾

ځئ ننوځئ په دغه دوزخ کې، پس صبر وکړئ تاسې يا مه کوئ صبر، برابر دي (دغه دواړه کارونه) په تاسې باندې، بېشکه همدا خبره ده چې جزا درکوله شوې تاسې ته د هغو (کارونو) چې وئ تاسې چې کول به مو (په دنيا کې).

تفسير: يعنې کله چې په دوزخ کې ولوېږئ او هلته وويرېږئ، او ډېر شورماشور چغې په کې وکړئ؛ نو سره له هغه به هيڅوک ستاسې چغو ته غوږ کښږدي، او نه به مو مرستې ته څوک درشي، که په فرض محال تاسې لږ څه چې شئ؛ نو پر تاسې باندې به څوک رحم کوونکی او زړه سوځوونکی هم نه پيدا کيږي.

اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّنَعِيْمٍ ﴿١٧﴾ فٰكِهِيْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ ۚ وَوَقٰىهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ﴿١٨﴾

بېشکه ويريدونکي (له الله ـ ځان ساتونکي له معاصيو) په جنّتونو کې به وي، او په نعمتونو کې به وي. مېوې خوړونکي خوشاليدونکي به وي په هغو (شيانو) چې ورکړي دي دوی ته رب د دوی، او ساتلي دي دوی رب د دوی له عذاب د دوزخ.

تفسير: يعنې هغه کسان چې په دنيا کې له الله تعالى څخه ويرېدل، په جنّت کې به بالکل مأمون او بې فکر اوسېږي، هلته به دوی ته د هوسايی، آرامی، او د عيش هر راز اسباب او سامان موجود وي، پرته له هغو څخه چې آيا يواځې دا ښښنه او انعام لږ دی، چې الله تعالى به يې د دوزخ له اوره وساتي؟.

او وبه ويل دغو متّقيانو ته له جانبه د الله تعالى أجلّ وأعلى شأنُه وأعظم برهانُه داسې چې:

كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿١٩﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى سُرُرٍ مَّصْفُوْفَةٍ ۚ

خورئ تاسې او څښئ ښه هضمېدونکي په سبب د هغو (ښو اعمالو) چې وئ تاسې چې کول به مو (په دنيا کې). حال دا چې تکيه کوونکي به ناست وي دوی پر تختونو باندې چې برابر به ايښود شوي وي صف صف.

تفسير: يعنې د جنتيانو مجلس به هسې وي چې ګرد جنّتيان به لکه باچاهانو غوندې پخپلو تختونو باندې يو له بل سره مخامخ ناست وي، او د هغوی ترتيب به خورا (ډېر) ښه وي.

وَزَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ عِيْنٍ ﴿٢٠﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِاِيْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَآ اَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ ؕ

او په نکاح به ورکړو دوی لره حورې ښې ښايستې، غټې سترګې. او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، او متابعت کړی وي د دوی اولادونو د دوی په ايمان سره؛ نو پيوست به کړو مونږ په دوی پورې اولاد د دوی، او کم به نه کړو مونږ دغو (پلرونو) لره له (جزاء د) عملونو د دوی هيڅ شی.

تفسير: يعنې د کاملانو اولاد او د دوی متعلّقين که په ايمان باندې قائم وي، او د همدغو کاملانو په لاره باندې لاړ شي، او هغه خدمتونه چې د دوی اسلافو انجام کړي دي، دوی هم د هغو په انجام او تکميل کې سعي وکړي؛ نو د الله تعالى په فضل او کرم به دوی په جنّت کې له هغوی سره يو ځای کيږي، که څه هم د دوی اعمال او احوال د دوی له اعمالو او افعالو څخه په څنګه والي او څومره والي کم او کيفيت کې راښکته وي، نو بيا هم د هغو لويانو د عزت او اکرام دپاره دا تابعان له متبوعينو سره يو ځای کيږی او ممکن دي چې ځينو ته پوره همغه ځای او مقام هم ورکړ شي، لکه چې له روايتونو څخه معلوميږي او ښکاري، په دې صورت کې داسې ګمان دی ونه کړ شي چې د دې کاملانو له ځينو ښو څخه به څه قدر لږ کړ شي، او د هغه په بدل کې د دوی ځوځات ته څه ثواب ورکاوه کيږي، نه دا به د الله تعالى له فضل، کرم او احسان څخه وي چې د قاصرينو لږ عمل ته ډېر موقعيت وربښي، او هغه د کاملينو تر مقام پورې رسوي.

كُلُّ امْرِئٍۭ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ ﴿٢١﴾

هر سړی په هغه عمل چې کړی يې وي؛ ګرو آخته دی (که نېک وي که بد).

تفسير: پاس د «فضل» بيان وو، دلته د «عدل» ضابطه راښيي، يعنې د عدل اقتضاء دا ده: هر سړی چې ښه يا بد عمل وکړي؛ له هغه سره سم خپل بدل مومي، زيات له دې څخه د الله تعالى فضل او کرم دی چې هغه تقصيرات بښي، يا يې کومه درجه لوړوي (اوچتوي).

وَأَمْدَدْنَاهُم بِفَاكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢٢﴾

او مدد به وکړو مونږ له دوی سره په ورکولو د مېوو (په هر وخت کې)، او د غوښو له هغه څيز چې د دوی زړه يې غواړي.

تفسير: يعنې هر راز غوښې يې چې زړه غواړي، او هره مېوه يې چې په زړه کې وګرځي؛ بې له ډيله او توقفه ورته حاضر او رسيږي.

يَتَنَازَعُونَ فِيهَا كَأْسًا لَّا لَغْوٌ فِيهَا وَلَا تَأْثِيمٌ ﴿٢٣﴾

يو له بله به اخلي دوی په دغه (جنّت) کې پيالې (د شرابو) چې نه وي چټي ويل په هغې کې، او نه نسبت کول د ګناه يو بل ته.

تفسير: يعنې کوم وخت چې د شراب طهور دوره وشي؛ نو جنتيان به د خوش طبعی په ډول يو د بل له لاسه کاسې (ګلاسونه) سره اخلي، خو په دې پاکو شرابو کې به يواځې خوند، نشاط او مزه وي، نشه، چټي خبرې او اپلټي به نه وي، او په هوش او عقل کې څه نقصان او فتور نه ورپېښوي، او نه به ګناه کې څه مرسته کوي، او نه کومه بده پېښه ورځنې پېښيږي.

وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ ﴿٢٤﴾

او چاپېر به ګرځي (لپاره د خدمت) پر دوی باندې غُلامان ځنګيان د دوی، ګواکې دغه (خُدام په حُسن او پاکی کې) مرغلرې پټې په غلاف کې ساتلې شوي به وي.

تفسير: يعنې لکه مرغلرې پخپل پوښ (غلاف) کې به بالکل پاک، صاف، او شفّاف وي، هيڅ دوړه ګرد او غبار ورته نه رسيږي، د دوی د پاکی او ستر حال به هم همداسې وي.

وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٢٥﴾ قَالُوا إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِي أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ﴿٢٦﴾ فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُومِ ﴿٢٧﴾ إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ إِنَّهُ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيمُ ﴿٢٨﴾

او مخ به کړي ځينې د دوی ځينو نورو ته چې پوښتنې به سره کوي (له دنيوي مشقّتونو څخه تشکّرًا). وبه وايي دوی چې: بېشکه مونږ ډومبی له دې نه وو په اهل خپل کې ويريدونکي (له عذابه). نو احسان وکړ الله پر مونږ باندې، او ويې ساتلو مونږ له عذاب د تودوخې ځرمې (د دوزخ). بېشکه مونږ وو مونږ پخوا له دې څخه (په دنيا کې) چې عبادت به مو کاوه د دغه (الله)، بېشکه چې دغه (الله) همدی دی ډېر ښه احسان کوونکی خورا (ډېر) رحم کوونکی دی.

تفسير: يعنې جنّتيان به په هغه جنّت کې يو د بل په لوري متوجه کيږي، او خبرې به سره کوي، او د خورا (ډېر) مسرّت او امتنان له سببه به يو بل ته داسې وايي: «ورونو ! مونږ په دنيا کې له الله تعالى څخه ويريدو، او په دې اندېښنې کې تل اوسېدو چې وروسته له مړينې به په مونږ باندې څه راځي؟ د الله تعالى دې احسان ته وګورئ ! چې نن مونږ څومره ډاډه، مطمئن او مأمون يو، چې د دوزخ يو تود باد او وږمه هم مونږ ته نه ده رسېدلې».

فَذَكِّرْ فَمَا أَنتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَلَا مَجْنُونٍ ﴿٢٩﴾

پس پند ورکوه ته (ای محمده ! خلقو ته) پس نه يې ته په سبب د فضل نعمت د رب خپل سره فال ګر (خبر ورکوونکی له غيبه) او نه مجنون ـ لېونی.

تفسير: کفّارو ځمونږ پيغمبر صلى الله عليه وسلم کله لېونی، کله کاهن، کله له پيريانو او شيطانانو څخه خبرې اورېدونکی باله، او ويل به يې چې: دوی له هغوی څخه څه خبرې اوري، بيا له هغه سره نورې خبرې ګډوي، مګر بې عقلان په دې باندې نه پوهېدل چې تر اوسه پورې کوم يو کاهن، شاعر، يا ليونی داسې پندونه، او حکيمانه اصول او داسې خوږې خبرې او هسې ښې ويناوې کړي وي؟ نو ځکه الله تعالى خپل حبيب صلى الله عليه وسلم ته وايي چې تاسې د هغوی له پوهولو څخه لاس مه اخلئ !، او د خپل رسالت پندونو ته دوام ورکړئ !، او د دوی له دې چټې خبرو څخه مه خپه کېږئ !، ځکه چې د الله تعالى له فضل او کرم څخه نه تاسې ليونی، نه کاهن يئ، بلکه د هغه مقدس استاځی او رسول يئ، او نصيحت کول ستاسې منصبي فرض دی، نو تل په هغه باندې دوام ولرئ !.

أَمْ يَقُولُونَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهِ رَيْبَ الْمَنُونِ ﴿٣٠﴾

آيا وايي دوی دی شاعر دی مونږ منتظر يو په ده باندې ګردش حوادثو د زمانې ته.

تفسير: يعنې دغه پيغمبر صلى الله عليه وسلم چې دغو منکرينو ته د الله تعالى خبرې اوروي، او پندونه ورکوي؛ آيا دا خلق يې ځکه نه مني، چې هغه محض شاعر ګڼي، او د دې خبرې په انتظار کې دي؛ هسې چې د پخوانۍ زمانې ډېر شاعران د زمانې په ګردش کې مړه شوي دي؛ دی به هم مري؟.

قُلْ تَرَبَّصُوا فَإِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُتَرَبِّصِينَ ﴿٣١﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) منتظر اوسئ تاسې (هلاکت ځما ته)، پس بېشکه زه له تاسې سره له منتظرانو څخه يم (اهلاک د تاسې ته).

تفسير: يعنې ښه دی، تاسې ځما انجام ته ګورئ، زه به ستاسې انجام ته ګورم، ژر دی چې دا غوټه به خلاصيږي، نو دا به درښکاره شي چې څوک خائب او خاسر دي؟.

أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَامُهُمْ بِهَٰذَا أَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴿٣٢﴾

آيا امر حكم كوي دوى ته عقلونه د دوى په دې (كار) يا دوى يو قوم دى سر كښه شر خوښوونكى تېرېدونكى له حده (جګړو او په عنادونو كې).

تفسير: يعنې پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته له ليونې ويلو څخه دا ښكاري چې ګواكې هغوى ډېر پوهان او عقلمندان دي، نو آيا د دوى عقل او پوهـه دا ورښيي چې ډېر صادق، أمين، پوه عاقل او په رښتيا پيغمبر ته شاعر، كاهن او لېونى ووايي، او د هغه له ښوونې څخه ستر ګې واړوي، كه دوى د شاعرانو او پيغمبرانو د ويناوو په منځ كې څه فرق او توپير نه شي كولى؛ نو دوى څرنګه پوهان او عقلمندان دي؟ مګر حقيقت خو دا دى چې دوى پخپلو زړونو كې په ګردو خبرو باندې په ښه شانې پوهيږي، خو په ښكاره داسې چتې خبرې كوي، او د شرارت چارې وړاندې كوي.

أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ ۚ بَل لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾ فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِ إِن كَانُوا صَادِقِينَ ﴿٣٤﴾

آيا وايي دوى چې له ځانه يې جوړ كړى دى دا (قرآن، نه ده داسې) بلكه دوى ايمان نه راوړي (تكبّرًا عنادًا). پس رادې وړي دوى يوه خبره (جوړه كړى شوې) په شان د دې (قرآن په فصاحت او بلاغت كې) كه چېرې وي دوى رښتينې په دې (وينا).

تفسير: يعنې داسې خيال كوي پيغمبر صلى الله عليه وسلم هغه چې اوروي؛ هغه د الله تعالى كلام نه دى، بلكه هغه دى له خپله ځانه جوړوي، او د هغه د دروغو خبرو نسبت الله تعالى ته كوي؟ كه څوك وغواړي چې دا ښكاره خبره ومني؛ نو دومره خبره د هغه د منلو لپاره كافي ده، چې د دنيا ګرد طاقتونه كه سره يو ځاى شي؛ نو د دې پاك قرآن په شان يو كتاب نشي راوړى.

أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ﴿٣٥﴾ أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾

آيا پيدا كړى شوي دي دوى بې له يو څيز (خالق پخپل سر)؟. يا كه دوى پخپله پيدا كوونكي دي د ځانونو خپلو؟. آيا پيدا كړي دي دوى اسمانونه او ځمكې؟ (نه ده داسې، خالق د ټولو الله دى)، بلكه يقين نه كوي دوى (او نه يې مني چې ايمان راوړي په هغه باندې او بندګي وكړي د هغه).

تفسير: يعنې دغه منكران د الله تعالى د پيغمبر صلى الله عليه وسلم خبرې ولې نه مني؟ آيا په دوى باندې هيڅ يو هسې الله نشته چې د هغه حكم منل په دوى لازم وي؟ آيا دوى پرته له كوم پيدا كوونكي څخه پخپل سر پيدا شوي دي؟ آيا دوى خپل ځان خداى ګڼي؟ داسې خيال كوي چې اسمان او ځمكه د دوى جوړ كړي شيان دي؟ دوى هم پخپلو زړونو كې ښه پوهيږي چې هرومرو الله تعالى شته، چې همغه الله تعالى د دوى او د ځمكې او اسمان پيدا كوونكى دى، مګر سره له دې علمه دوى له هغه ايمان او يقين څخه چې شرعًا مطلوب دي؛ محروم او بې برخې دي.

أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ ﴿٣٧﴾

آيا له دوى څخه دي خزانې د رب ستا؟ آيا همدوى دي واكداران؟ (زوروران چې كوي هر كار پخپل سر، بلكه دوى ټول د الله تعالى تر حكم لاندې دي).

تفسير: آيا دوى داسې خيال كوي چې ځمكه او اسمان د الله تعالى له جوړ كړيو شيان څخه دى، خو الله تعالى د خپلو خزانو مالكان دوى ګرځولي دي؟ يا د ده په ملك او خزانو باندې دوى په زور او تسلّط سره قبضه كړې ده؟ نو دوى سره له دومره تسلّط، تصرّف او اقتدار څرنګه مطيع او منقاد كېدى شي؟.

أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَسْتَمِعُونَ فِيهِ ۚ فَلْيَأْتِ مُسْتَمِعُهُم بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾

آيا شته دوی ته اندرپايه (چې پرې خيژي اسمان ته او) اورېدل کوي په هغې باندې (خبرو د ملائکو ته)؟ پس را دې وړي هغه اورېدونکی د دوی يو بُرهان سند ښکاره (په صحّت د اورېدلو د ده باندې).

تفسير: يعنې آيا هغوی داسې دعوی کوي چې دوی پورې درولې، پر اسمان باندې ختلي دي، او هلته يې له ملأ الأعلى څخه خبرې اوريدلي دي، کله چې دوی پخپل سر تر هغه درباره پورې رسېدی شي؛ نو د بل چا متابعت ته اړ نه دي؟ څوک چې هسې دعوی کوي؛ نو بسم الله رادې شي، او خپل حُجّت، قاطع سند، لامع برهان او بيان دې راوړاندې کړي، اوس په حماقت او جهالت د مشرکانو کې فرمايي چې:

أَمْ لَهُ الْبَنَاتُ وَلَكُمُ الْبَنُونَ ﴿٣٩﴾

آيا هغه (الله) لره لونې دي (په زعم ستاسې)؟ او تاسې لره ځامن دي.

تفسير: يعنې آيا دغه منکران، الله تعالى له خپل ځان څخه ښکته ګڼي؟ معاذ الله لکه چې د دوی د لونې او ځامنو له ويشلو څخه راخرګندېږي، نو ځکه د هغه د احکامو او هدايتونو په مخ کې غاړه اينبودل د خپل شان کسر بولي.

أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٠﴾

آيا ته غواړې له دوی څخه (ای محمده !) څه اجر بدل؟ پس دوی له تاوان (د هغه) درانه کړی شوي دي؟ (او ځکه در څخه تاووي مخ، او نه مؤمنانيږي له عناده).

تفسير: آيا دا خلق ځکه ستاسې خبرې نه مني، چې الله تعالى دې نه کړي تاسې په ارشاد او تبليغ باندې له هغوی څخه څه باړه مزدوري او معاوضه غواړئ، چې د هغه د دروندوالي لامله تور خوري.

أَمْ عِندَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤١﴾

آيا په نزد د دوی (علم د) غيب دی، نو دوی يې ليکي (له هغه نه).

تفسير: يعنې آيا پخپله الله تعالى پر دوی باندې وحي ليږي، او لکه پيغمبران دوی له خپلو اسرارو څخه خبروي چې دوی يې ليکي، لکه چې د انبياوو عليهم السلام وحي ليکلی کيږي، نو ځکه دوی ستاسې پيروي ته څه ضرورت نه لري، بلکه نه ده دا خبره چې له دوی څخه علم د غيب وي، بلکه دوی صرف ضد نيولي، نو ځکه ايمان نه راوړي.

أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا ۖ فَالَّذِينَ كَفَرُوا هُمُ الْمَكِيدُونَ ﴿٤٢﴾

آيا اراده لري دوی د مکر کولو (او د چل په اهلاک د تا)؟ پس هغه کسان چې کافران شوي دي؛ هم په دوی باندې مکر کړی شوی دی (او خپله جزاء مومي).

تفسير: يعنې له دغو پاسو خبرو څخه هيڅ يوه خبره نشته، نو بيا آيا داسې اراده لري چې له پيغمبر سره فريب دروغ چل او مکر وکړي؟، او په خفيه تدابيرو په پټو غوټو سره حق مغلوب يا يې له منځه وباسي؟، که داسې وي نو په ياد يې ولرئ، چې هغه مکر، چل، او فريب ګرد د همدوی په غاړه کې لويږي، ژر به دوی ته دا څرګنده شي چې آيا حق

مغلوب کېدونکی دی؟ که دوی پخپله له منځه وتونکي او فناء کېدونکي دي؟ بلکه حق ځامخا غالب دی، او پخپله همدوی په همدغه خپل کنستلي کوهي کې لويږي.

أَمْ لَهُمْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ ۚ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٣﴾

آیا شته دوی ته کوم معبود بې له الله؟ پاکي ده الله لره له هغه شي چې دوی يې ورسره شريکوي (نور).

تفسير: يعنې آیا بې له الله تعالی بل کوم حاکم یا معبود يې تجويز کړی دی چې د مصيبت په وخت کې د هغوی مرسته وکړي، او د هغه عبادت دوی د الله تعالی له عبادت ځخه بې پروا کړي دي؟ نو په یاد يې ولرئ، چې دا ګرد اوهام او وساوس دي، او د الله تعالی ذات له ګردو ځخه پاک او د هغه هيڅوک شريک، مثيل، مقابل او مزاحم نشي کېدی.

وَإِن يَرَوْا كِسْفًا مِّنَ السَّمَاءِ سَاقِطًا يَقُولُوا سَحَابٌ مَّرْكُومٌ ﴿٤٤﴾

او که ووينې دوی يوه ټوټه له اسمانه رالوېدونکې؛ نو وبه وايي (دا) وريځ ده پرېږه (غټه) يو پر بلې باندې سوره شوې.

تفسير: يعنې په حقيقت کې له دوو خبرو ځخه هيڅ يوه هم نشته، او يواځې يوه خبره ده چې هغه عناد او ضد دی، او د هغه لامله دا خلق هر رښتيا خبره دروغ ګڼي، او د هغې په دروغ بللو باندې ټينګ ولاړ دي، د دې خبرې کيفيت دا دی: که د دوی له غوښتنې سره سم د اسمان يوه ټوټه هم راولويږي، او دوی هغه پخپلو سترګو سره هم ووينې، نو بيا هم هغه ته خبرې جوړوي، او څه په څه تأويل په کې کوي، مثلاً وايي به چې دا د اسمان ټوټه نه ده، بلکه د وريځې يوه پرېږه (غټه) حصه ده چې منجمد شوې راولوېده.

فَذَرْهُمْ حَتَّىٰ يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي فِيهِ يُصْعَقُونَ ﴿٤٥﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِي عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤٦﴾

نو پرېږده دوی تر هغه پورې چې يو ځای شي (مخامخ شي) دوی له ورځې خپلې سره، هغه چې په کې وبه لويږي پر دوی باندې ټکه (تندر) (د برېښنا یا بې هوشه هلاک کړی شي). هغه ورځ چې وبه نه کړي دفع له دوی نه کيد مکر د دوی هيڅ ځيز (له عذابه د الله)، او نه به له هغوی سره څه مدد مرسته وکړه شي.

تفسير: يعنې په هسې معاندينو پسې زيات لوبدل دومره په کار نه دي، پرېږدئ چې د څو ورځو له مخې لوبې وکړي، او خبرې جوړې کړي، آخره هغه ورځ راتلونکې ده چې د الله تعالی د قهر برېښنا (تندر) پرې ولويږي، او د دوی هوش او حواس والوځي، او د ژغورنې هيڅ ترتيب به يې په کار نه ورځي، نه له کوم لوري ورته مرسته رسيږي، غالبًا له دې ځخه به قيامت مراد وي.

وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٧﴾

او بېشکه هغو کسانو لره چې ظلم يې کړی (کافران شوي) دی (اخروي) عذاب دی بې له دې (دنيوي) عذابه، وليکن زياتره د دوی نه پوهيږي (نو ځکه مخ ګرځوي له ايمانه).

تفسير: يعنې له دوی څخه زياتره سړي په دې خبر نه دي چې پرته له آخرته په دنيا کې هم دوی ته يوه سزا او هيداد رسېدونکی دی، ښايي چې له دې څخه د «بدر» غزا او د نورو غزواتو سزاوې مراد وي.

وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا

او صبر کوه ته (ای محمده !) حکم د رب خپل ته، بېشکه ته ځمونږ د سترګو لاندې يې، چې وينو دې او حفاظت دې کوو.

تفسير: يعنې له صبر او استقامت سره د خپل رب د تکويني او تشريعي حکم انتظار وباسئ، چې ژر به ستاسې او د هغو په منځ کې فيصله وکړي، او تاسې ته به د مخالفينو له خوا هيڅ نقصان نه رسېږي، ځکه چې تاسې ځمونږ تر سترګو لاندې يئ، او ستاسې ساتنه او حفاظت ځمونږ په غاړه دی.

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٤٨﴾

او تسبيح وايه پيوست له حمده د رب خپل سره په هغه وخت کې چې راپاڅېږئ (له خوبه يا له مجلسه).

تفسير: يعنې له صبر، تحمّل، سکون او اطمينان سره تل د الله تعالى په تسبيح، تحميد او عبادت کولو کې مشغول اوسئ !، په تېره بيا کله چې له خوبه راپاڅېږئ !، يا لمانځه ته ودرېږئ !، يا له مرکې څخه تشريف يوسئ، په دې حالاتو کې د تسبيح او تهليل او نورو اذکارو ډېر ترغيب او تأکيد شوی دی.

وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُومِ ﴿٤٩﴾

او په بعض د شپې کې پس تسبيح ووايه د دغه (الله)، او د وروستو د ستوريو څخه (يعنې د شپې په آخره کې هم تسبيح ووايه).

تفسير: د شپې له برخې څخه ښايي چې د تهجّد وخت مراد وي، او د ستوريو نه شا ګرځولو وقت ګهيځ (سحر) دی، ځکه چې په دې مهال کې ګرد ستوري د سحر په رڼا کې پټېږي.

تمّت سورة الطور، ولله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ النَّجْمِ

«د (النجم) سورت مکّي دی، پر ته (علاوه) د (۳۲) آیته څخه چې مدني دی، (۶۲) آیته (۳) رکوع لري، په تلاوت کې (۵۳) او په نزول کې (۲۳) سورت دی، وروسته د «الاخلاص» له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ ﴿١﴾ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ ﴿٢﴾

قسم دی په ستوریو باندې کله چې پرېوځي (غروب وکړي، یا راوخیژي طلوع وکړي). نه دی ګمراه شوی ملګری (رسول) ستاسې، او نه یې لاره ورکه کړې ده.

تفسیر: له «صاحب» او «رفیق» او ملګري څخه نبي کریم صلی الله علیه وسلم مراد دی، یعنې نه دی د غلط فهمۍ لامله له لارې څخه وتلی دی، او نه په خپل قصد او اختیار سره پوهېدلی بې لارې تللی دی، بلکه هم هغسې چې د اسمان ستوري له خپلو څخه نیولې تر پرېوتلو پورې په یوه ټاکلې تګ او لارې باندې درومي، او یوې خوا بلې خوا ته نه خوځېږي، د نبوّت لمر هم په همغه ډول د الله تعالی په ټاکلي لارې باندې برابر ځي، او هیڅېرې یوه او بل لوري ته نه ځي.

وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ﴿٣﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ﴿٤﴾

او خبرې نه کوي (محمد) له هوا (خپلې) نه. نه دی دغه (قرآن) مګر وحي ده چې ورته لېږلې شوې ده.

تفسیر: یعنې مخالف عمل او کار چېرې؟، د دوی له مبارکې خولې څخه داسې یو توری هم نه دی وتلی چې د دوی په نفساني غوښتلو باندې مبني وي، بلکه دوی هر هغه شی چې د دیني امورو په نسبت فرمایلی دی؛ هغه د الله تعالی رالېږلې وحي ده، او هغه ګرد د الله تعالی له حکمونو سره سم وو، د دوی په منځ کې متلوّ وحي ته قرآن او غیر متلوّ وحي ته حدیث ویلی شي.

عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَىٰ ﴿٥﴾ ذُو مِرَّةٍ

ښوولې ده ده ته د سختو قوّتونو مالک (جبرئیل). چې خاوند د ښه قوت صورت عقل دی.

تفسیر: یعنې اصلي وحي لېږونکی الله تعالی دی، خو د هغه په وسیله چې دا وحي تر دوی پورې رسېږي، او هغه چې په ښکاره ډول ده ته ښوونه کوي؛ هغه د ډېرو قوّتونو څښتنه، خورا زورواره، او وجیهه پرښته ده، چې هغې ته «جبریل أمین» وایه شي، لکه چې د (التکویر) په سورت کې یې هم د «جبریل أمین» په نسبت فرمایلي دي: ﴿إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ * ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ﴾ الآیة ـ

فَاسْتَوَىٰ ﴿٦﴾ وَهُوَ بِالْأُفُقِ الْأَعْلَىٰ ﴿٧﴾

بیا برابر کېناست. او هغه وو په کنارو لوړو (اوچتو) (له اسمانه).

تفسير: له لوړو (اوچتو) کنارو څخه زياترو مفسّرينو شرقي افق مراد کړي دي، چې له هغه ځايه سپېده داغ بريښي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته د بعثت په اول کې يو ځلې جبريل أمين پخپل اصلي صورت سره ورښکاره شو، چې په يوه کرسۍ باندې ناست وو، په هغه وخت کې د اسمان يوه څنډه تر بلې څنډې پورې د هغه له وجود څخه ډک ښکاريده، او خورا لويه او ويروونکې په نظر راتله، چې له دې امله ځمونږ رسول اکرم صلى الله عليه وسلم له دوی څخه دومره وويرېد چې د (مدّثر) سورت نازل شو.

ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ﴿٨﴾ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ ﴿٩﴾ فَأَوْحَىٰ إِلَىٰ عَبْدِهِ مَا أَوْحَىٰ ﴿١٠﴾

بيا نژدې شو (جبريل محمد ته) پس ښه نژدې شو. پس وو په منځ د نژدېوالي د دوو لېندو يا ډېر نژدې له دې نه هم. پس وحي وکړله (الله په ژبه د جبريل) بنده خپل ته هغه چې وحي يې وکړه.

تفسير: يعنې جبريل عليه السلام سره له دې چې له خپل اصلي مستقر سره تعلّق لري، خو سره له هغه هم راښکته شو، او رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک ته دومره نژدې شو چې د دواړو په منځ کې د دوو لاسو يا د دوو لېندو څخه زياته فاصله نه وه پاتې، په خپل هغه وخت کې الله تعالى پر خپل خاص بنده محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې وحي ورنازله کړه، غالبًا له دې څخه د «المدثر» سورت دا آيتونه مراد وي: ﴿يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ * قُمْ فَأَنْذِرْ﴾ الآية - يا به نور احکام وي.

مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَىٰ ﴿١١﴾

نه وو ويلي دروغ زړه (د محمد) هغه چې ليدلى يې وو (په سترګو) (جبريل).

تفسير: يعنې محمد صلى الله عليه وسلم جبريل عليه السلام په خپلو سترګو سره وليد، او زړه يې ورته وويل چې: په دې وخت کې په زړه پورې هم هغسې چې ښايي ته جبريل عليه السلام ته وګورې، او په دې کې ته هيڅ غلطي نه کوې، او د يوه شي په ځای بل شی په نظر نه درځي، په دې ويلو کې د ده زړه رښتين وو.

أَفَتُمَارُونَهُ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ﴿١٢﴾

پس آيا تاسې جګړې کوئ له هغه (محمد) سره په هغه کې چې ده ليدلي دي.

تفسير: يعنې وحي لېږونکى الله او وحي راوړونکې هسې پرېښته ده چې د هغه صورت، سيرت، فهم، حفظ، او نور صفات ګرد ښايسته او ښه او د هغې ګرد قوّتونه کامل دي، او بيا داسې سره نژدې شول او وحي يې ور ورسوله چې پيغمبر هغه پخپلو سترګو سره وليد، او د هغه صاف او رونړ زړه د هغه تصديق وفرمايه، نو آيا په هسې ليدلي شوي او ښه اورېدلي شوي ځيز کې تاسې لره د داسې چتې او اپلټې خبرې کولو څه حق شته؟ چې خامخا په کې فضول بحثونه او بېکاره جګړې او تکرارونه وکړئ.

وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ﴿١٣﴾ عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَىٰ ﴿١٤﴾ عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَأْوَىٰ ﴿١٥﴾

او خامخا په تحقيق ليدلى وو محمد هغه (جبريل) په راښکته کېدلو کې بل ځلې په نزد د ونې د بېرې سدرة المنتهى (چې منتها د علم د خلقو دی). په نزد د هغې دی جنّت المأوى (يعنې ځای د هستوګنې د مؤمنانو).

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «دويم ځلي يې جبريل عليه السلام پخپل اصلي صورت د معراج په شپه په اووم اسمان کې د بېرې له ونې سره ولید، چې هغه د پورتنيو او ښکتنيو مخلوقاتو په منځ کې وېش سرحد دی، يعنې چې پاسني خلق لاندې او ښکتني خلق پورته نشي تلی، او د هغه په خوا کې جنّت يې هم وکُوت»

إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ ﴿١٦﴾

(ليدلی وو محمد جبريل لره) کله چې پټې کړې هغې ونې د بېرې لره هغه څه چې پټ کړې يې وو.

تفسير: يعنې د حق تعالی انوارو او تجلّياتو پر دې ونې باندې پلوشې اچولي دي، او د پرښتو د هجوم او کثرت دا حال وو چې د دې ونې له هرې پانې سره يوه پرښته په نظر راتله، په ځينو روایاتو کې راغلي دي چې (ما يغشى) پتنونه (پتنګان) دي، يعنې ډېر ښه صورت لري چې د هغې په ليدلو سره زړه خوښيږي، په دې وخت کې د دې ونې د بهار او د سينګار او د هغې د حسن او جمال داسې يو حال دی چې هيڅ يو مخلوق د هغې صفت په الفاظو سره نشي کولی.

مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ﴿١٧﴾

نه وې ګرځېدلې سترګې د (محمد بلې خوا ته) او نه دی تېر شوی (له حده).

تفسير: يعنې هر هغه شی چې د محمد صلی الله عليه وسلم سترګو ولید؛ په پوره تمکّن او اتقان سره وو، نه کتنه کږه شوې ده، او نېي او کينې او ښکته او پورته خوا ته اوښتې ده، او نه يې له مبصَر څخه تجاوُز کړی وړاندې تېره شوې ده، پس په هغه شي باندې نښتې وه چې د هغه ښوونه منظور وه.

لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَىٰ ﴿١٨﴾

خامخا په تحقيق ليدلي دي (محمد) له (ځينو) د لائلو د رب خپل چې ډېر لوی وو.

تفسير: د ﴿إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ﴾ په تفسير کې هغه بيان چې شوی دی، برسېره په هغه باندې هغه نور شيان چې ليدلي او اوريدلي يې وي؛ هغه الله تعالی ته ښه معلوم او ښکاره دي.

أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزَّىٰ ﴿١٩﴾ وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَىٰ ﴿٢٠﴾

آيا پس وينئ تاسې لات او عُزّی او منات (په مرتبه کې) دريم بل له دغو (يعنې دغه بُتان بيخي بېکاره شيان دي).

تفسير: يعنې د هغه الله تعالی په مقابل کې چې د هغه عظمت او جلال لره حد او اندازه نشته، د دې سپکو او ناولو شيانو له نوم اخيستلو څخه شرم په کار دی.

تنبيه: «لات ـ عُزّی ـ منات» د هغې زمانې د کفارو د بتانو او باطلو معبودانو نومونه دي، د دوی له منځه (لات) د طائفيانو په نزد ډېر معظم وو، او (منات) د اوس او خزرج او خُزاعه په نزد او (عُزّی) د قريشو او بني کنانه او نورو په نزد ډېر معزّز وو، چې له هغو دوو رومبنيو څخه يې ده ته عزّت ورکاوه، او (عُزّی) چې په مکّه مکرّمه کې نخلې ته نژدې وو، بيا (لات) چې په طائف کې وو، بيا له دوی څخه وروسته په دريمه درجه (منات) چې له مکې څخه لرې او مدينې ته نژدې وو، په ځينو تفاسيرو کې پر دې ځای کې يوه قصّه نقل کوي چې د محدّثينو د جمهورو له اصولو سره سم د صحت تر درجې پورې نه رسيږي.

أَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْأُنْثَىٰ ﴿٢١﴾ تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ ضِيزَىٰ ﴿٢٢﴾

آيا تاسې لره (ای کُفّارو) هلکان دي او دغه (الله) لره لونې دي. دا (قسمت د اولاد) په دې شان قسمت دی ډېر کوږ ناکاره.

تفسير: یاقوت په (معجم البُلدان) کې لیکي چې: کافرانو دا بُتان د الله تعالی لونې بللې، خو اول الله هغه لوی ذات دی چې صفت یې په ﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ﴾ سره شوی دی، او بالفرض که د اولاد تقسیم هم ومنل شي؛ نو دا تقسیم څومره خراب او بېکاره دی، چې تاسې خپلو ځانونو ته هلکان او الله تعالی ته لونې ورکوئ (العیاذ بالله).

إِنْ هِيَ إِلَّا أَسْمَاءٌ سَمَّيْتُمُوهَا أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ

نه دي (دا بُتان) مګر خو تش نومونه دي چې ایښي دي تاسې دوی لره تاسې او پلرونو ستاسې، نه دی نازل کړی الله په دغه (عبادت د بُتانو) باندې کوم برهان ـ علمي سند.

تفسير: یعنې په تیرو او ونو باندې یو څه نوم ږدي، چې د هغوی پر الوهیت باندې کوم برهان او علمي سند نه لري، بلکه د هغوی پر خلاف دلائل قائم دي، هغوی ته چې تاسې پخپلو خیالونو کې که د الله تعالی لونې یا د هغه هلکان یا بل شی وایي؛ دا ګردې چتې او د خولې خبرې دي، چې هیڅ صحیح نه دي او څه حقیقت نه لري.

إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْأَنْفُسُ وَلَقَدْ جَاءَهُمْ مِنْ رَبِّهِمُ الْهُدَىٰ ﴿٢٣﴾

متابعت نه کوي دوی مګر خو د ګمان خپل، او د هغه شي چې غواړي یې نفسونه د دوی، او خامخا په تحقیق سره راغلی دی دوی ته له ربه د دوی څخه هدایت او لارښوونه.

تفسير: یعنې سره له دې چې د الله تعالی له خوا د هدایت رڼا راغلې ده، او سمه لاره یې رابنوولې ده، مګر دا ناپوهان د هم هغو اوهامو او د هغو خبرو چې ددوی په زړونو کې ګرځي؛ متابعت کوي، اود ګمانونو په توره تیاره کې سره ننبتي دي.

أَمْ لِلْإِنْسَانِ مَا تَمَنَّىٰ ﴿٢٤﴾ فَلِلَّهِ الْآخِرَةُ وَالْأُولَىٰ ﴿٢٥﴾

آیا شته (کافر) انسان لره هغه چې غواړي یې (له نبوّت اواخروي سعادت؟ بلکه نشته). پس خاص الله لره دی (سلطنت او باچایي د) آخرت او د دنیا.

تفسير: یعنې هسې اټکل او ګمان کوي چې دا بُتان به ځمونږ سپارښت کوي، دا خو تش خیال او تشې ارزوګانې دي، آیا هر هغه تمنّا او ارزو چې سړی یې وکړي؛ هغه یې په لاس ورځي، په یاد یې ولرئ چې د دنیا او آخرت ګردې ښېګڼې د الله تعالی په لاس کې دي.

وَكَمْ مِنْ مَلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا إِلَّا مِنْ بَعْدِ أَنْ يَأْذَنَ اللَّهُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَرْضَىٰ ﴿٢٦﴾

او ډېرې دي له ملائکو څخه په اسمانونو کې چې نه دفع کوي شفاعت سپارښت د دوی هیڅ شی مګر وروسته له هغه چې اذن حکم وفرمایي الله لپاره د هغه چا چې اراده وفرمایي او راضي وي په شفاعت یې.

تفسير: یعنې د دې بتانو حقیقت څه دی؟ د اسماني هستېدونکیو د مقرّبو پرښتو شفاعت او سپارښت هم هیڅ په کار نه راځي، هو ! د هر چا په حق کې چې پاک الله د سپارښت کولو حکم وکړي؛ هغه د کار شی دی، او هغه له هر چا څخه

چې خوښ وي؛ همغه ګټور دی، ښکاره ده چې هغه نه بتانو ته د سپارښت کولو اذن ورکړی دی، او نه دی له کافرانو څخه خوښ دی.

إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ لَيُسَمُّونَ الْمَلَائِكَةَ تَسْمِيَةَ الْأُنثَىٰ ﴿٢٧﴾ وَمَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ ۖ وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا ﴿٢٨﴾

بېشکه هغه کسان چې ایمان نه راوړي په آخرت باندې؛ خامخا نومونه ږدي پر ملائکو باندې په نوم ایښودلو د ښځو سره. او نشته دوی ته په دې وینا کې هیڅ علم پوهه، متابعت نه کوي دوی مګر خو د ګمان، او بېشکه ګمان نه دفع کوي له حق څخه هیڅ شی.

تفسیر: هر څوک چې په آخرت باندې یقین او باور نه لري؛ هغه له سزا او هیداد څخه بېفکره کیږي، او په داسې بېباکی او بېفکری کې اخته کیږي چې الله تعالی ته بد نسبتونه کوي، او مثلاً وایي چې: پرښتې ښځې او د هغه لونې دي، دا محض د دوی جهالت او ناپوهي ده، ځکه چې پرښتې له نارینتوب اوښځیتوب سره هیڅ تعلق او علاقه نه لري، او الله تعالی به څرنګه اولاد ولري؟ که څوک په رښتیا او ټینګو خبرو باندې قائم وي؛ نو په داسې ګمانونو اټکلونو او اوهامو او چټې خبرو پسې چې هیڅ کار ورځنې نه جوړیږي، نه ګرځي.

فَأَعْرِضْ عَن مَّن تَوَلَّىٰ عَن ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ إِلَّا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴿٢٩﴾ ذَٰلِكَ مَبْلَغُهُم مِّنَ الْعِلْمِ

پس مخ وګرځوه ته له هغه چا څخه چې مخ یې ګرځولی دی له ذکره پنده ځمونږ. او نه لري اراده مګر خو د ژوندون لږ خسیس. دا (اختیارول د ده دنیا لره) ځای د رسېدلو د دوی دی له علمه پوهې (د دوی).

تفسیر: یعنې د هر چا برسټن او نالې چې د دنیا دا څو ورځې ژوندون دی، او په هغه کې هسې منهمک شي چې الله تعالی او آخرت ور څخه هېر وي، او هیڅ خپل فکر ورته نه نیسي؛ نو تاسې د دوی اپلتو او چټې (بېکاره) خبرو ته زیات مه متوجه کېږئ !، هم هغسې چې هغوی له الله تعالی څخه مخ اړوي، تاسې هم د هغوی له شرارت او بدې څخه مخ واړوئ !، د دوی علمي جداوجهد یوائې د بهائمو په شان د ګېډو ډکول او د شهوت شړل دي، پرته له نفساني غوښتنو څخه بل شي ته نه متوجّه کیږي.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدَىٰ ﴿٣٠﴾

بېشکه رب ستا همدی ښه عالم دی په هغه چا باندې چې ګمراه شوی دی له لارې د ده څخه (چې اسلام دی)، او همدی ښه عالم پوه دی په هغه چا باندې چې سمه لاره یې مونډلې ده.

تفسیر: یعنې هغه چې په ګمراهۍ کې پروت دی، او هغه چې په سمې لارې باندې روان دی، دوی ټول سره د هغوی د مخفي استعداداتو له ازل راهیسې پاک الله ته معلوم او الله تعالی پرې ښه خبر دی، او سم له هغه سره هر کار کېدونکی دی، نو ځکه تاسې ځان یوې خوا ته ونیسئ، او د هغو معاندینو معامله الله تعالی ته خوشې کوئ او ور ویې سپارئ.

وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ أَسَاءُوا بِمَا عَمِلُوا وَيَجْزِيَ الَّذِينَ أَحْسَنُوا بِالْحُسْنَىٰ ﴿٣١﴾

او خاص الله ته دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي، او هر هغه چې په ځمکه کې دي (سره له اسمانونو او ځمکې ملکا وخلقًا وعبیدًا) (پیدایښت)، لپاره د دې چې جزاء ورکړي (الله) هغو

کسانو ته چې بدي يې کړي وي په (سبب) د هغه (بد) عمل چې کړی يې وي، او جزاء ورکړي هغو کسانو ته چې نيکي يې کړي وي په نېکو عملونو سره (په جنّت).

تفسير: يعنې د هر سړي احوال الله تعالى ته ښه معلوم دي، او د ځمکې او د اسمان پر هر شي باندې د هغه واک او قبضه ده، بيا نو د ښو او د بدو په بدل ورکولو کې د هغه په مخ کې څه ممانعت موجود کېدی شي، بلکه که په غور سره وګورئ؛ نو ځمکه او د اسمان دا ګردې کارخانې د همدې لپاره پيدا کړی شوي دي چې د هغو په نتيجه کې د ژوندون يوه بله غير فاني سلسله قائمه کړه شي، تر څو په هغې کې بدانو ته د هغوی د بدۍ او نېکانو ته د هغوی د نېکۍ بدل ورکړ شي.

اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ۭ

(نيکوکاران) هغه کسان چې ځان ساتي له کبائرو لويو ګناهونو څخه، او له فواحشو قبيحو کارونو څخه، مګر وړې وړې ګناه (لکه نظر کول حرامو ته، او نور د دې په شان ښښل کېږي له جانبه د الله په سبب د اجتناب له کبائرو نه).

تفسير: د صغيرې او کبيرې فرق د «النساء» سورت په تفاسيرو کې په تفصيل سره تېر شوی دی، د (لمم) په تفسير کې څو خبرې شته، ځينې وايي: هغه خيالات او چرتونه دي چې د ګناه په نسبت په زړونو کې ګرځي، خو له قوې څخه فعل ته نه وځي؛ هغه لمم دی، ځينې له هغه څخه صغيره ګناه مرادوي، ځينې وايي: هغه ګناه چې په کولو باندې يې اصرار نه کوي، يا يې خپل عادت ونه ګرځوي، يا هغه ګناه چې توبه ورځنې وکړي مراد دی.

اِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ ۭ

بېشکه رب ستا واسع (پراخ کوونکی د بښنې او) د مغفرت دی.

تفسير: نو ځکه له ډېرو وړو وړو ګناهونو څخه تيريږي او توبه قبلوي، او ګنهګاران نه مأيوس کوي، که په هره لويه او وړه ګناه باندې يې پوښتنه کولې؛ نو د اميد ځای به چېرې پاتې کېده؟.

هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ اِذْ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَاِذْ اَنْتُمْ اَجِنَّةٌ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ فَلَا تُزَكُّوْٓا اَنْفُسَكُمْ ۭ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى ۝

هغه ښه عالم دی په تاسې باندې کله چې پيدا يې کړئ تاسې له ځمکې څخه، او کله چې وئ تاسې (پټ) بچي په ګېډو د مېندو خپلو کې؛ نو مه ستايئ مه پاکوئ تاسو ځانونه خپل، همدغه (الله) ښه عالم دی په هغه چا باندې چې ويريږي (له الله او ځان ساتي له معاصيو).

تفسير: يعنې که د تقوی څه توفيق الله تعالى چاته ورکړي؛ نو دی دې لويي نه کوي !، او خپل ځان دې نه ستايي !، ځکه چې پاک الله د هر سړي له لويې او پاکۍ او تقوی نه په ښه شان خبردار دی، او له هغه وخته ورښکاره ده چې دوی لا د دې وجود او شتوالي په دائره کې قدم او پل نه وو ايښی.

اَفَرَءَيْتَ الَّذِيْ تَوَلّٰى ۝

آيا پس ليدلی دی تا هغه څوک چې مخ يې واړاوه (له ايمانه او مرتدّ شو).

تفسير: يعني خپل اصل يې هېر کړ، او د خپل اصلي خالق او حقيقي مالک له لوري يې مخ واړاوه.

وَاَعْطٰى قَلِيْلًا وَّاَكْدٰى ﴿۳۴﴾

او ور يې کړ لږ شی (له مقرره مال څخه)، اومنع يې کړل نور (او سخت پرې ټينګ شو).

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «يعني لږ څه ايمان يې راوړ، بيا يې زړه کلک شو»، مجاهد (رحمة الله عليه) او نور ليکي چې دا آيت د (وليد بن مغيره) په باره کې نازل شوی دی، چې هغه ځمونږ د پيغمبر لږ څه خبرې واورېدې، او د اسلام په لور يې لږ څه رغبت پيدا شو، او د کفر له سزا څخه ووېرېده، نژدې وو چې مسلمان شي، چې يوه کافر ته وويل: داسې مه کوه ! چې زه ستا کرد جرائم پخپله غاړه اخلم، او ستا له لوري کرده سزا زه په ځان تېروم، په دې شرط سره چې لږ څه مال ماته راکړې، هغه دا خبره ومنله، او د مقرر شوي رقم څه قسط يې هم ور ورساوه، او بيا يې انکار وکړه؛ نو په دې صورت سره د ﴿وَاَعْطٰى قَلِيْلًا وَّاَكْدٰى﴾ معنى به داسې کيږي: چې څه مال يې ورکړ او بيا يې لاس وويست.

اَعِنْدَهٗ عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ يَرٰى ﴿۳۵﴾

آيا شته له ده څخه علم د پټو (مخفي شيانو) پس دی وينې (نجات خپل).

تفسير: يعني آيا دا د غيب خبر يې ليدلی دی چې هغه ته به د کُفر سزا نه رسيږي؟ او بل سړی به خپل ځای ودروي، او په رښتيا سره دی دی خلاصيږي؟.

اَمْ لَمْ يُنَبَّاْ بِمَا فِيْ صُحُفِ مُوْسٰى ﴿۳۶﴾ وَاِبْرٰهِيْمَ الَّذِيْ وَفّٰٓى ﴿۳۷﴾

آيا نه دی خبر کړی شوی دی په هغه (شي) چې وو په صحيفو پاڼو دموسی کې. او په (صحيفو پاڼو) دابراهيم کې هغه (ابراهيم) چې وفاء يې کړې وه (په احکامو د الله).

تفسير: يعني ابراهيم عليه السلام پخپله وينا او عهد او پيمان باندې پوره ټينګ ولاړ وو، او د الله تعالى کرد احکام يې په ځای کړل، او د هغه د احکامو په تعميل کې يې لږ څه تقصير هم ونه کړ.

اَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ﴿۳۸﴾

(په صحف مذکوره وو کې دا دي) چې نه پورته کوي هيڅ نفس پورته کوونکی بار پېټی د بل نفس.

تفسير: يعني د موسى او د ابراهيم عليه السلام په صحيفو کې داسې مضمون وو، چې د الله تعالى په مخکې يو مجرم د بل مجرم پېټی نشي اخيستی، او هر يو سړی خپل سوال او ځواب او ښه او خراب پخپله غاړه اخلي.

وَاَنْ لَّيْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰى ﴿۳۹﴾

او بله دا چې نشته هيڅ انسان لره مګر (جزا د هغه شي) چې کړی يې دی.

تفسير: يعني سړی چې هر څه پخپل زيار او کوښښ سره کتې؛ هغه د ده دي، او هيڅوک د بل نيکي او بدي نشي اخيستی.

وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَىٰ ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الْأَوْفَىٰ ﴿٤١﴾

او بېشكه (دا چې) جزا د سعي عمل د ده ژر ده چې وبه ښوولى شي (ده ته). بيا به جزاء ورکړى شي هغه ته جزاء پوره بدل ښه (د نېکۍ نېکه ـ د بدۍ بده).

تفسير: يعنې د هر چا سعي او کوښښ به د هغه په مخ کې کېښود شي، او د هغه پوره پوره بدل به ورکاره کېږي.

وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ الْمُنتَهَىٰ ﴿٤٢﴾

او بېشكه (دا چې) رب ستا ته ده انتهاء د ګردو (مخلوقاتو پس له مرګه چې ورځي ورته لپاره د جزاء).

تفسير: يعنې د ګردو علومو او افكارو سلسله او د وجود انتهاء د الله تعالى په لوري كېږي، او ټول شيان په پاى كې هغه الله تعالى ته رجوع او ورتګ كوي، او د ده له مخې به هر چا ته د هغه د ښو او بدو ثمره ورکوله كېږي.

وَأَنَّهُ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ ﴿٤٣﴾ وَأَنَّهُ هُوَ أَمَاتَ وَأَحْيَا ﴿٤٤﴾ وَأَنَّهُ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ ﴿٤٥﴾

او (دا چې) بېشكه همغه (الله) خندوي او ژړوي. او بېشكه همغه (الله) وژني او ژوندي كوي. او (دا چې) بېشكه همغه (الله) پيدا كړې يې دي جوړې نر او ښځه.

تفسير: يعنې په دې نړۍ كې ګرد متضاد او متقابل احوال هغه لوى ذات پيدا كړي دي، د شر او د خير خالق همغه الله تعالى دى، د خوښۍ او د غم كيفيّات د هغه په لاس كې دي، خندول، ژړول، لارښوول، ګمراه كول، ژوندي كول او مړه كول، نر او ښځه پيدا كول او د دوى په شان نور شيان ټول د دې خالق له كارونو څخه دي.

مِن نُّطْفَةٍ إِذَا تُمْنَىٰ ﴿٤٦﴾ وَأَنَّ عَلَيْهِ النَّشْأَةَ الْأُخْرَىٰ ﴿٤٧﴾

له يوه څاڅكي اوبو د (مني) څخه كله چې وځځاوه شي (په رحم كې). او (دا چې) بېشكه په ده باندې دي پيدا كول د دويم ځلي (پس له مرګه).

تفسير: يعنې هغه ذات چې له يوه څاڅكي څخه يې نر او ښځه پيدا كړي دي، نو هغه ته بيا پيدا كول څه مشكل دي؟ د يوه پيدايش له ښوولو څخه يې په بل پيدايش باندې هم تنبيه وفرمايله.

وَأَنَّهُ هُوَ أَغْنَىٰ وَأَقْنَىٰ ﴿٤٨﴾

او (دا چې) بېشكه همغه (الله) غني كوي او خزانې ورکوي (يا خواروي).

تفسير: يعنې مال، خزانه، جايدادونه ټول د هغه ښښنه ده، ځينې د (اقنى) معنى (افقر) اخلي، يعنې هغه ځينې غني كوي، او ځينې فقير اكرب كوي، دا معنى له رومبني سياق سره مناسبه ښكاري، ځكه چې د متقابلو شيانو ذكر له اول تر آخره پورې راغلى دى، او كه اول مطلب واخيست شي؛ نو د هغه په مقابل كې ښايي چې اهلاك كېښود شي، چې ذكر يې وروسته راځي، يعنې خزانې، مال، او دولت هغه ورکوي او زياتوي يې، او همغه ډېر لوى دولتمندان او طاقتوران اقوام او ټېرونه تباه او بربادوي.

وَأَنَّهُۥ هُوَ رَبُّ ٱلشِّعۡرَىٰ ﴿٤٩﴾

او (دا چې) بېشکه هم هغه (الله) رب د شِعری دی.

تفسیر: «شِعری» یو لوی ستوری دی، چې ځینو له اعرابو به د هغه عبادت کاوه، او داسې یې ګڼه چې د عالم په پېښو کې هغه ډېر تأثیر او اغېزه لري، دلته دا راښکاره کوي چې د «شِعری» رب هم الله تعالی دی، او د دنیا ګردې پېښې او لاندې باندې او نور د ده په لاس او واک کې دي، بې وځلې (شعری) هم لکه یو معمولي مزدور د هغه احکامو په ځای راوړلو کې زیار (کوښښ) کوي، او په هغه کې کوم مستقل تأثیر او اغېزه هیڅ نشته.

وَأَنَّهُۥٓ أَهۡلَكَ عَادًا ٱلۡأُولَىٰ ﴿٥٠﴾

او (دا چې) بېشکه همغه (الله) وژلي هلاک کړي دي عادیان ړومبی.

تفسیر: یعنې د هود علیه السلام قوم.

وَثَمُودَا۟ فَمَآ أَبۡقَىٰ ﴿٥١﴾ وَقَوۡمَ نُوحٍ مِّن قَبۡلُۖ إِنَّهُمۡ كَانُوا۟ هُمۡ أَظۡلَمَ وَأَطۡغَىٰ ﴿٥٢﴾

او (هلاک کړي یې دي) ثمودیان، پس باقي یې پرې نه ښود بل هیڅوک (له هغوی نه). او (هلاک کړی یې دی) قوم د نوح پخوا له دوی نه، بېشکه چې دوی وو هم دوی ډېر ظالمان او ډېر سرکښان.

تفسیر: یعنې تر سلهاوو کلونو د الله تعالی رسول نوح علیه السلام ته یې هسې ډېر سخت ضررونه او ایذاوې رسولي چې د هغه له ویلو ځخه د هر سړي زړه خوړېږي، او راتلونکیو لره یې بده لاره وپرانیستله.

وَٱلۡمُؤۡتَفِكَةَ أَهۡوَىٰ ﴿٥٣﴾ فَغَشَّىٰهَا مَا غَشَّىٰ ﴿٥٤﴾

او هغو کلیو اړولیو شویو لره یې ښکته راوغورځول (ځمکې ته پس له پورته کېدو نه). پس راولوېد په هغه باندې څه چې راولوېد (یا پس پټ یې کړه هغه لره په هغه څه چې پټ یې کړل).

تفسیر: یعنې د تیرو باران او وریا یې پرې وکړه، دا د لوط علیه السلام د قوم یادونه ده.

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارَىٰ ﴿٥٥﴾

پس په کومو نعمتونو د رب خپل شک کوې ته (ای کافر انسانه؟).

تفسیر: یعنې د داسې مفسدانو، ظالمانو او باغیانو تباه کول او له منځه لرې کول او ورک کول هم د الله تعالی ډېر لوی انعام او ښېنه ده، آیا د داسې نعمتونو له لیدلو ځخه وروسته هم انسان خپل الله تعالی ته د دروغو نسبت کوي.

هَٰذَا نَذِيرٌ مِّنَ ٱلنُّذُرِ ٱلۡأُولَىٰٓ ﴿٥٦﴾

دغه (محمد رسول الله هم) ویروونکی دی له (جملې د) ویروونکیو ړومبنیو ځخه.

تفسیر: یعنې محمد صلی الله علیه وسلم د مجرمانو د بد انجام ځخه همداسې ویرول کوي، لکه چې له دوی ځنې وړاندې نورو پیغمبرانو هم کفار ویرول.

اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ ﴿۵۷﴾ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ كَاشِفَةٌ ﴿۵۸﴾

را نژدې شو راتلونکی (قیامت). نشته هغه لره پرته له الله ښکاره کوونکی (راوستونکی).

تفسیر: یعنې قیامت ډېر نژدې شوی دی، خو د هغه ټاکلی وخت پرته له الله تعالی بل چا ته په ښکاره ډول نه دی معلوم، او کله چې ټاکلی وخت یې راشي؛ نو هیڅ یو طاقت هغه نشي ستنولی، که الله تعالی اراده وفرمایي؛ د هغه په دفع باندې قادر دی، خو هغه یې هم نه لرې کوي.

اَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ تَعْجَبُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا تَبْكُوْنَ ﴿۶۰﴾ وَاَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ ﴿۶۱﴾

آیا پس له دې خبرې (قرآن) څخه تعجّب کوئ تاسې (انکارًا ای منکرانو). او خاندئ تاسې (تمسخُرًا) او نه ژاړئ (خوفًا. او تاسې غافلان یئ (له هغه شي چې مطلوب دی تاسې ته) چتې (بېکاره) لوبې کوئ.

تفسیر: یعنې قیامت او د هغه نژدېوالی د خبر له اورېدلو څخه باید چې تاسې د الله تعالی له وېرې په ژړا کېدئ او یرېدئ، او د خپلې ژغورنې تیاری به مو کاوه، مګر تاسې په خلاف د هغه تعجّب کوئ او خاندئ، او په غفلت او بېفکرۍ کې په چتې لوبو کې اخته یئ.

فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا ﴿۶۲﴾

پس سجده کوئ تاسې (خاص) الله ته، او عبادت کوئ د همدغه (الله !، نه د نورو).

تفسیر: یعنې یو عاقل او پوه لره نه ښایي چې له انجامه غافل شي، او په پند، نصیحت او پوهولو باندې ټوکې او مزاح وکړي او پرې وخاندي، بلکه ښایي چې د بندګۍ لاره غوره کړئ !، او مطیع او منقاد اوسئ !، د عاجزۍ او نیاز وچولی د الله تعالی په دربار کې کېږدئ !.

تنبیه: په روایتونو کې راغلي دي چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم کله چې د (النجم) سورت ولوست، دی پخپله هم په سجده پرېوت، او نورو ګردو مسلمانانو او مشرکانو هم چې هلته حاضر وو؛ سجده وکړله.

تمّت سورة النجم، ولله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ القَمَرِ

«د (القمر) سورت مکّي دی، ماسوا له (۴۴، ۴۵، ۴۶) آیتونو څخه چې مدني دي، (۵۵) آیته (۳) رکوع لري، په تلاوت کې (۵۴) او په نزول کې (۳۷) سورت دی، وروسته د «الطارق» له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ①

را نژدې شو قیامت او څیري دوه توټې شوه سپوږمی.

تفسیر: له هجرت څخه پخوا رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په (منا) کې تشریف درلود، د کافرانو یوې لوبې جرګې له دوی څخه یوه معجزه وغوښته، دوی وفرمایل چې: د اسمان په لوري وګورئ! ناڅاپه سپوږمی له منځه دوه توټې شوه، یوه توټه یې د لمر خاته په لوري، او بله توټه یې د لمر پرېوتو په لوري لاړه، په منځ کې یې غر حائل وو، کله چې د کافرانو جرګې دا لویه معجزه ولیده؛ سره یې وویل چې: «محمد صلی الله علیه وسلم پر مونږ یا پر سپوږمی باندې سحر جادو کوډې کړي دي»، دغې معجزې ته (شقّ القمر) وایي، او دا یوه نمونه یا نښه وه د قیامت چې وروسته له دې څخه به هر شی لکه دا شلیږي او چوي، طحاوي او ابن کثیر اونورو د دې واقعې د تواتر دعوی کړېده، او له کوم عقلي دلیل سره تر اوسه پورې د هسې واقعاتو محال کېدل نشي ثابت کېدی، او یواځې د استبعاد په بناء داسې قطعي الثبوت شیان نه شي تردید کېدی، بلکه استبعاد خو اعجاز لره لازم دی.

وَاِنْ يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ②

او که ووینې دغه (کُفّار د قریشو) کوم دلیل (د قدرت) نو پر څنګ به شي دوی (مخ به واړوي) تړې، او وایي به دوی (دغه) سحر کوډې دي قوي چې له پخوا راهیسې راځي.

تفسیر: یعنې پخوا له دې هم د نبوّت دعوی کوونکیو د داسې سحر او کوډو دعاوی کړي دي، هم هغسې چې هغه تللي دي؛ دا به هم ځي.

وَكَذَّبُوْا وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ وَكُلُّ اَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ③

او دروغجن ګڼي دوی (حق لره)، او متابعت کوي دوی د خواهشونو خپلو، او هر کار قرار نیوونکی دی (سره له کوونکي خپل په نعیم یا جحیم کې).

تفسیر: یعنې د هغوی عذاب هم په خپل وخت باندې راتلونکی دی، او هغوی لره هغه هلاکت او ګمراهي چې د الله تعالی په علم کې ټاکلې شوې ده؛ هیڅ وړاندې وروسته کېدونکې نه ده.

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنَ الْاَنْۢبَآءِ مَا فِيْهِ مُزْدَجَرٌ ④

او خامخا په تحقیق راغلي دي دوی ته خبرې او اهلاک د پخوانیو امتونو هغه شی چې په هغه کې امتناع او سرزنش وو (له کفره).

تفسير: يعني د قرآنكريم په وسيله هر راز احوال او د تباه شويو قومونو واقعات درښكاره شوي دي، كه په هغو باندې غور وكړئ؛ نو د الله تعالى له لوري لويه تنبيه او ويښول دي.

راغلي دي دغو منكرانو ته دغسې پند چې:

حِكْمَةٌۢ بَٰلِغَةٌ فَمَا تُغْنِ ٱلنُّذُرُ ۝٥ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ

حكمت دى كامل نهايت ته رسېدلى، پس هيڅ نفع نه رسوي (دوى ته) ويروونكي (انبياء، قرآن، مواعظ). نو مخ وګرځوه ته له هغوى څخه.

تفسير: يعني قرآن مجيد د پوره عقل او حكمت د خبرو مجموعه ده، كه څوك يې په ښه نيت او پوره توجّه سره ولولي؛ نو په زړونو كې يې ځاى نيسي او په كې لويږي، مګر د افسوس ځاى دلته دى چې سره د دومره لارښوونې او د هدايت د اسباب د شتو بيا هم دوى هدايت نه مومي، او په سمه لاره نه راځي، نو ځكه د هسې غټو زړونو او سنګدلو بدبختانو په فكر كې ډېر زيات مه اوسئ، تاسو د خپل تبليغ فرض او د دعوت وظيفه او دنده په ښه شان او سلوك سره اداء وفرمايئ، اوس نو د زيات تعاقُب ضرورت نشته، پرېږدئ چې هغوى د خپلې هستوګنې د ځاى په لوري ور درومي.

يَوْمَ يَدْعُ ٱلدَّاعِ إِلَىٰ شَىْءٍ نُّكُرٍ ۝٦

(او ياده كړه هغه) ورځ چې رابولي (دوى لره) بلونكى يو شي ناآشنا ته (چې حساب او جزاء د اعمالو ده).

تفسير: يعني د حشر د ډګر به لوري د شمېر (حساب) ورکولو لپاره.

خُشَّعًا أَبْصَٰرُهُمْ

حال دا چې ويريدونكي خړې خواړې به وي سترګې د دوى.

تفسير: يعني په هغه وخت كې به يې د خوف او ندامت لامله په ډېر ذلت او ندامت سره سترګې ځوړې او مړې وي، او له ډېره شرمه به ځمكې ته ګوري.

يَخْرُجُونَ مِنَ ٱلْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ ۝٧ مُّهْطِعِينَ إِلَى ٱلدَّاعِ ۖ

راوځي به دوى له قبرونو څخه ګواكې دوى به ملخان وي خواره واره. چې تلوار كوونكي به وي په لوري د بلونكي خپل.

تفسير: يعني ګرد ډومبني او وروستني خلق به له خپلو قبرونو څخه ووځي، اود ملخانو په ډول سره به په ځمكه كې تيت پيت او خواره شي، او د الله تعالى په مخ كې به د خپلو چارو د جزاء لپاره په ډېر تلوار سره حاضريږي.

يَقُولُ ٱلْكَٰفِرُونَ هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ۝٨

وايي به كافران دا ورځ ده ډېره سخته.

تفسير: يعني د هغې ورځې د ويروونكيو احوالو او شدائدو لامله او د خپلو جرائمو له تصوّره به كفار داسې ووايي، چې دا بده سخته ورځ ده، وبه ليده شي چې نن به څه را باندې تيريږي، وروسته دا رابنيي چې قيامت او د

آخرت عذاب پخپل وخت باندې راتلونکی دی، ډېرو دروغجنانو ته له هغه څخه پخوا په دنیا کې هم یوه سخته ورځ په مخ راغلې ده.

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا عَبْدَنَا وَقَالُوا مَجْنُونٌ وَازْدُجِرَ ﴿٩﴾

دروغجن ګڼلي دي پخوا له دوی څخه قوم د نوح (نوح علیهم علیه السلام)، نو دروغجن وشمېرو دوی بنده ځمونږ، او ویې ویل چې: (دغه نوح) لېونی دی او منع کړی شوی دی (له دعوت د خلقو نه).

تفسیر: کُفّارو به تهدیدًا ویل: ای نوحه ! که ته له خپلو هسې خبرو څخه نه اوړې، نو مونږ به دې تر ډېرو لاندې کړو ! ګواکې په داسې ویرولو سره یې د هغوی خبرو ته غوږ نه نیوه، او د ده خبرې به توی تللې، ځینې د ﴿وَّازْدُجِرَ﴾ معنی داسې کوي چې: لېونی یا بادسار یا رنځور دی، او سد (هوش) او عقل ترې ورک، (العیاذ بالله).

فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ ﴿١٠﴾

پس دعا سوال وکړ (نوح) له ربه خپله (داسې چې) بېشکه زه مغلوب عاجز شوی یم، نو بدل مې واخله (له کُفّارو).

تفسیر: یعنې له سلهاوو کلونو پوهولو سره هم کله چې څوک د دوی په خبرو باندې ونه پوهېدل، نو دوی هغوی ته ښېرې وفرمایلې، او ویې ویل: «ای ربه ! زه اوس د دوی له لارښوونې څخه عاجز شوی یم، پر دوی باندې ځما هدایت او لارښوونې هیڅ اغېزه او اثر ونه کړ، اوس نه ته د خپل دین او پیغمبر بدل او کسات واخله !، او پر ځمکه باندې هیڅ یو کافر ژوندی مه پرېږده !».

فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ بِمَاءٍ مُنْهَمِرٍ ﴿١١﴾ وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا فَالْتَقَى الْمَاءُ عَلَى أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ﴿١٢﴾

نو وپرانیستل مونږ ورونه د اسمان په اوبو ډېرو راتویې شویو سره (له اسمانه). او وبهولې مونږ له ځمکې څخه (هم) چینې، بیا سره ګډې شولې ټولې اوبه (د اسمان او د ځمکې) په هغه کار باندې چې ټاکلی مقرر شوی وو (چې اهلاک د قوم د نوح وو).

تفسیر: یعنې اوبه داسې سختې راوشوړېدې لکه چې د اسمان ګرد ورخونه خلاص شوي دي، او لاندې د ځمکې ټولې اوبه هم له یوې مخې دباندې راخوټېدلې دي، او دومره زیاتې اوبه راووتې، لکه چې د ځمکې مخ د لویو چینو یوه مجموعه شوه، بیا د لاندې او د باندې او دا دواړه اوبه سره ګډې شوې د هغه کار لپاره حاضرې شوې چې د الله تعالی له خوا لا پخوا له هغه ټاکلی (مقرّر) شوی وو، یعنې د نوح علیه السلام د قوم تباهي، هلاکت او ډوبېدل.

وَحَمَلْنَاهُ عَلَى ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ ﴿١٣﴾ تَجْرِي بِأَعْيُنِنَا

او سور کړی وو مونږ دغه (نوح) پر (بېړۍ چې) خوندې د تختو پلنو او میخونو پریږو (غټو) وه. چې تلله ګرځېده ځمونږ د سترګو لاندې چې مو لیده او څارنه مو ورله کوله.

تفسیر: یعنې د دې ویروونکي طوفان په وخت کې د نوح علیه السلام بېړۍ ځمونږ د سترګو تر کتنې حفاظت او نګرانۍ لاندې وه، او په ډېره هوسایی او آرامی سره د اوبو په سر ګرځېده.

جَزَآءً لِّمَن كَانَ كُفِرَ ﴿۱۴﴾

(واقع شوی وو دا طوفان) لپاره د امداد د هغه چا چې کُفران د احسان يې کړی شوی وو (چې نوح دی).

تفسیر: يعنې کفّارو د نوح عليه السلام بې قدري و کړه، او الله تعالی د خبرې له منلو څخه يې مخ واړاوه، دا وه د هغه سزا او انتقام چې د لوی طوفان او سخت ځپان په ډول ورورسېده.

وَلَقَد تَّرَكْنَٰهَآ ءَايَةً فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿۱۵﴾

او خامخا په تحقيق پرېښودله مونږ دغه (بېړۍ) يو دليل (د قدرت خپل)، نو آيا شته څوک يادوونکی پند اخيستونکی.

تفسیر: يعنې فکر کوونکي لره په دې واقعې کې د قُدرت ډېر دلائل او د عبرت زياتې نښې دي، يا يې دا مطلب چې نن د کشتۍ وجود په دنيا کې هغه قصه راپه يادوي او د الله تعالی د لوی قدرت لويه نښه ده.

فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِى وَنُذُرِ ﴿۱۶﴾

پس څرنګه وو عذاب ځما (په دوی چې مې هلاک کړل ټول په طوفان) او ويرول ځما (په ژبې د نوح)؟.

تفسیر: يعنې ځما عذاب يې وليد، چې ځومره ويروونکی دی، او ځما ډارول ځومره په ځای او ربښتيا دي.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿۱۷﴾

او خامخا په تحقيق اسان کړی دی مونږ قرآن لپاره د يادولو او پند اخيستلو، نو آيا شته څوک يادوونکی پند اخيستونکی.

تفسیر: يعنې له قرآنه پند اخيستل ډېر اسان دي، ځکه هغه مضامين چې د ترغيب، ترهيب، انذار، تبشير او نورو په نسبت دي؛ هغه ګرد بالکل صاف، سهل، ساده او اسان دي، او مؤثر دي، او دومره سهل او صاف دي چې هر سړی په لږ فکر او غور سره پرې پوهيږي.

كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِى وَنُذُرِ ﴿۱۸﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِى يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿۱۹﴾

دروغجن ګڼلی وو عاديانو (هود)، نو څرنګه وو عذاب ځما او ويرول ځما؟. بېشکه مونږ لېږلی وو مونږ پر دوی باندې باد ډېر سخت په ورځې نحسې (د بدۍ) کې چې تل وي بدي يې (پر دوی باندې چې په کې هلاک شو).

تفسیر: شاه صاحب ليکی: «يعنې بدي او نحوست پورته نه شو، تر څو ګرد سره تمام نه شول، او دا د نحوست ورځ هغوی لره وه نه تل»، په قرآنکريم کې تصريح شوې ده چې هغه عذاب اووه شپې او اته ورځې پرله پسې وو.

تَنزِعُ ٱلنَّاسَ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴿۲۰﴾

چې را ايستل به (باد له پټو ژورو کندو د ځايونو خپلو نه) خلق ګواکې دوی تنې د خرماوو وي چې له بېخه رايستلې شوې په ځمکه پرېوتلې وي.

تفسير: د عاد قوم ډېر پياوړی قوي او د لويو جثو او ونو خاوندان وو، خو دوی د دې سخت باد او د لويې سيلۍ له ورښه داسې سره په څټ راولوېدل، لکه چې د کجورو ونې چې له ستې او بېخه وويستلی شي، او هغه خوا وغورځولی شي.

فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٠﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٣١﴾ كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِالنُّذُرِ ﴿٣٢﴾

نو څرنګه وو عذاب ځما او ويرول ځما (له بېخه ايستل مې)؟. او خامخا په تحقيق اسان کړی دی مونږ قرآن ذکر پند اخيستلو ته، نو آيا شته څوک يادوونکی پند اخيستونکی. دروغجن ګڼلي وو ثمودیانو (انبياء او نور) ويروونکي.

تفسير: يعنې صالح عليه السلام يې دروغجن شمېرلی وو، او حال دا دی چې يوه نبي دروغجن بلل عينًا د ټولو پيغمبرانو دروغجن بلل دي، ځکه چې د دين په اصولو کې دوی ګرد يو، د بل مصدقان او مؤيدان دي.

فَقَالُوا أَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهُ إِنَّا إِذًا لَّفِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ﴿٣٣﴾

پس وويل دوی آيا يو بشر لره له مونږ څخه چې يو دی؛ متابعت وکړو (مونږ چې ډېر يو) ده لره؟ بېشکه مونږ په دغه وخت کې خامخا به يو په ګمراهی او لېونتوب کې (نو نه يې کوو متابعت).

تفسير: يعنې دغه خو کومه اسماني پرښته نه دی، بلکه مونږ غوندې يو سړی دی، هغه هم يو بېکس او يواځې چې هيڅ قوت او ملګری ورسره نشته، دی غواړي چې مونږ راښکته او د خپل ځان تابع وګرځوي، او حال دا دی چې دا کار له سره هيڅ کېدونکی نه دی، که مونږ د ده په خبرو باندې وغولېږو، او د ده په لومه کې بند شو؛ نو دغه به ځمونږ سخته غلطي ناپوهي او حماقت څرګند کړي، بلکه دا کار به له لېونتوب سره سم وي.

ءَأُلْقِيَ الذِّكْرُ عَلَيْهِ مِن بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٌ ﴿٣٤﴾

آيا غورځولی شوی دی ذکر وحي په ده باندې په منځ ځمونږ (نه ده شوې وحي)؟ بلکه دی ډېر دروغجن متکبّر دی (چې پخپله ځان غټوي).

تفسير: يعنې پيغمبری ته د نورو خلقو په منځ کې يواځې همدغه پاتې وو؟ ګردې خبرې يې دروغ دي، او خامخا ځای لوی راښيي، تکبّر کوي او وايي چې: زه د الله تعالى له لوري استاځی او پيغمبر يم، او ګرد قوم ته ښايي چې ځما خبرې ته غوږ کيږدي، او اطاعت مې وکړي، او حکم مې ومني، نو ترديدًا فرمايي الله أكرم شأنُه وأعظم برهانُه داسې چې:

سَيَعْلَمُونَ غَدًا مَّنِ الْكَذَّابُ الْأَشِرُ ﴿٣٥﴾

ژر ده چې پوه به شي دوی صباح (په وخت د نزول د عذاب کې، يا په ورځ د قيامت کې) چې څوک دی هغه ډېر دروغجن متکبّر.

تفسير: يعنې ډېر ژر معلومېږي چې د دې دواړو په منځ کې دروغجن او متکبّر څوک دی؟.

إِنَّا مُرْسِلُوا النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ

بېشکه مونږ لېږونکي يو د اوښې لپاره د فتنې ازمويښت د دوی.

تفسير: يعني د هغوی له غوښتنې سره سم مونږ له تيرې څخه اوښه را وويسته، او ور ومو لېږله، او د هغې په وسيله مو دا په عملي ډول هم ښکاروله چې له هغوی څخه کوم يو د الله تعالى او د هغه د رسول خبرې مني؟ او کوم يو د خپل نفس په غوښتنې کار کوي؟.

فَارْتَقِبْهُمْ وَاصْطَبِرْ ﴿٢٧﴾ وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَاءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ ۖ كُلُّ شِرْبٍ مُحْتَضَرٌ ﴿٢٨﴾

پس منتظر اوسه ته (ای صالح !) دوی ته او صبر وکړه (يعني وګوره ! چې څه نتيجه راووځي؟). او خبر کړه دوی (په دې) چې بېشکه اوبه ويشلې شوي دي په منځ د دوی (او د اوښې) کې، هر وار د اوبو ته حاضر کړی شوي دي (خاوندان د اوبو پخپل وار).

تفسير: شاه صاحب ليکي: هغه اوښه به په هر وار چې اوبو ته تله؛ نور څاروي او حيوانات به له هغې څخه ويرېدل او لرې به تښتېدل، نو د الله تعالى له لوري وار او نوبت مقرّر شو، چې يوه ورځ به هغې اوښې اوبه څښلې، او بله ورځ به نورو حيواناتو.

فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ﴿٢٩﴾

نو راوباله دوی ملګری خپل (لپاره د وژلو د اوښې؛ نو توره يې واخيسته) پس پرې يې کړې پښې (د هغې اوښې او مړه يې کړه).

تفسير: شاه صاحب ليکي: «يوه بدکاره ښځه وه چې حيوانات يې ډېر وو، هغې خپل يو آشنا ولمساوه، او هغه د دې اوښې پښې پرې کړې، او ويې وژله، نو پس له دريو ورځو نه پرې عذاب نازل شو».

فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٠﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَاحِدَةً فَكَانُوا كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ ﴿٣١﴾

پس څرنګه وو عذاب ځما او ويرول ځما. بېشکه مونږ ولېږه مونږ پر هغو باندې غږ يو (د جبريل)؛ نو شول دوی لکه وچ مات شوي (ټوټې ټوټې خس خاشاک وانښه شپول جوړوونکي).

تفسير: يعني پرښتې يوه سخته کړېکه وکړه، چې د هغې لامله د هغو ګردو زړونه وچاودل، او ټول سره هک پک او حيران پاتې شول، او هسې راوبربېښېدل، لکه چې د وښو يوه لويه کوټه د څاروو تر پښو لاندې غوبل شوي وي، او ګرد سره ګډو او مات او چيت او بوس بوس شوي وي.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٣٢﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ بِالنُّذُرِ ﴿٣٣﴾

او خامخا په تحقيق اسان کړی دی مونږ قرآن لپاره د ذکر يادلو پند اخيستلو؛ نو آيا شته څوک يادوونکي پند اخيستونکي؟. دروغجن کړی وو قوم د لوط ويروونکي (انبياء لره).

تفسير: يعني دوی لوط عليه السلام ته دروغجن وويل، او په داسې کار سره چې د يوه نبي تکذيب يې وکړ، ګواکې د ګردو انبياوو تکذيب يې وکړ، يا قوم د لوط دروغجن وګڼه لوط په ويرولو او پند ورکولو د ده سره دوی لره.

إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا إِلَّا آلَ لُوطٍ ۖ نَجَّيْنَاهُم بِسَحَرٍ ﴿٣٤﴾ نِّعْمَةً مِّنْ عِندِنَا ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِي مَن شَكَرَ ﴿٣٥﴾

بېشکه مونږ لېږلی وو مونږ پر دوی باندې باد کانې ويشتونکی مګر کورنۍ د لوط، ومو ژغورل دوی په پېښمني کې. له جهته د مهربانۍ له نزده ځمونږ، همداسې (د آل لوط په شان) جزاء ورکوو مونږ هغه ته چې شُکر وباسي حق منونکی وي.

تفسير: يعني لوط عليه السلام په پښمني کې له خپلو کورنيو سره روغ رمټ ووتلو، او هغوی ته هيڅ ربړ او عذاب ونه رسېد، او ځمونږ عادت همداسې دی چې حق پېژندونکيو او شکر ويستونکيو بندګانو ته همسې جزا ورکوو.

وَلَقَدْ أَنذَرَهُم بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿٣٦﴾

او خامخا په تحقيق ويرولي وو (لوط) دوی لره له نيولو ځمونږ څخه، نو شک وکړ دوی په ويرولو (د هغه کې).

تفسير: يعني د هغو په خبرو کې به يې چتې ويناوې شبهې جګړې کولې، او هغه به يې دروغجن ګڼلو (په ويلو د ده کې).

وَلَقَدْ رَاوَدُوهُ عَن ضَيْفِهِ فَطَمَسْنَا أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٧﴾

او خامخا په تحقيق غوښتي وو دوی له دغه (لوط څخه) مېلمانه د هغه (بدکارۍ ته)؛ نو محو ړندې کړې مونږ سترګې د دوی، پس (وفرمايل الله دوی ته په ژبه د ملائکو چې) وڅکئ تاسې ثمر د عذاب ځما، او د ويرولو ځما.

تفسير: پر هغو پرښتو باندې چې د ښکليو هلکانو په اشکالو کې راغلې وې، دوی د انسانانو ګمان کړی او د خپلو بدو اخلاقو او بدو رشو په غوښتنه پر دوی باندې د لاس اچولو په فکر کې شول، نو مونږ هغوی ړانده کړل چې هر لوري ته ګرځېدل، او له هر شي سره لګېدل، او هيڅ شی به هغو ته نه ښکارېده، نو ورته ومو ويل چې: ړومبی تاسې د دې عذاب خوند وڅکئ !.

وَلَقَدْ صَبَّحَهُم بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣٨﴾ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٩﴾

او خامخا په تحقيق راغلی وو دوی ته په وقت د صباح کې عذاب چې ثابت قرار نيوونکی وو (په دوی باندې). نو (وفرمايل الله دوی ته په ژبه د ملائکو چې) وڅکئ تاسې ثمره د عذاب ځما او د ويرولو ځما.

تفسير: يعني له ړندولو څخه وروسته مو د هغوی کلي واړول، او پر دوی باندې مې له پاسه تيږي ووروليې، له هغه وړوکي عذاب څخه وروسته دا لوی عذاب وو چې پر دوی باندې له پاسه د صباوون په وخت کې راولوېد.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدْ جَاءَ آلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿٤١﴾

او خامخا په تحقيق اسان کړی دی مونږ قرآن لپاره د ذکر يادولو پند اخيستلو، نو آيا شته څوک يادوونکی پند اخيستونکی؟. او خامخا په تحقيق راغلي وو (فرعون او) قوم د فرعون ته ويروونکي.

تفسير: موسی او هارون عليهما السلام او د هغوی ويروونکې نهه مشهورې معجزې.

كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا كُلِّهَا فَأَخَذْنَاهُمْ أَخْذَ عَزِيزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٤٢﴾

دروغجن وګڼل هغوی آيتونه ځمونږ ټول، نو ونيول مونږ دوی په نيولو د ذات ډېر غالب او قادر سره.

تفسير: يعني د الله تعالی نيول زبردست نيول دي، چې د هغه له لاسه هيڅوک چېرې نشي تښتېدلی، لکه چې د فرعونيانو ګرد لاولښکر يې سره له فرعون د قُلزم په بحيره کې هسې ډوب کړل چې يو تن هم د هغو له منځه خلاص نشو.

أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ أُولَٰئِكُمْ أَمْ لَكُم بَرَاءَةٌ فِي الزُّبُرِ ﴿٤٣﴾ أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ﴿٤٤﴾

آيا كفّار ستاسې (اى عربو !) غوره دي له پومبنيو (كُفّارو) د تاسې څخه يا تاسې ته (حكم) د خلاصى دى په (پومبنيو) كتابونو كې. آيا وايي دوى (چې) مونږ يو ټولى مرستې (مدد) كوونكى يو له بل سره، بدل اخيستونكى؟.

تفسير: الله تعالى د پومبنيو قومونو قصه اوروي، او د هغې په منځ كې موجوده وو خلقو ته خطاب كوي چې آيا له دې موجوده وو كافرانو څخه پخواني كافران كم قوّته او كم شوكته وو؟ يا دوى له هغوى څنې قوي او ښه دي؟ كله چې مونږ هغو تېرو كافرانو ته د هغوى د كُفر او طغيان په سزا كې تباهي وركړه؛ نو آيا د دوى تباهي كومه سخته خبره ده؟ يا دوى ته د الله تعالى له لوري كوم ليكلى امر وركړى شوى دى، چې هومره مو چې زړه غواړي؛ شرارت او سركښي وكړئ، تاسې ته هيڅوك سزا نه دركوي، يا يې داسې ګڼلې او ټاكلي دي چې ځمونږ مجمع او ټولنه ډېره لويه ده، مونږ به يو له بل سره مرستې كوو، او ګرد به په دې وسيله له سزا څخه ځانونه ساتو، او هيڅوك به نه پرېږدو چې ځمونږ په مخ كې بريالي شي، نو فرمايي الله جل جلاله:

سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴿٤٥﴾

ژر ده چې ماته به كړه شي جمع (د دوى)، او وبه ګرځوي دوى شاوې خپلې (مسلمانانو ته له جنګه).

تفسير: يعنې ژر ده چې دوى ته به د هغوى د دې مجمع حقيقت ورښكاره شي، او د مسلمانانو په منځ كې به ماتې وموميږي، او شا به وګرځوي، لكه چې په بدر، احزاب او نورو غزاګانو كې دغه وړاندوينه راښكاره شوه، په دې وخت كې ځمونږ د لوى استاځي پـه ژبه دا آيت جاري وو: ﴿سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ﴾.

بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾

(دغه قتل او ماتې كافي نه ده دوى ته) بلكه قيامت دى وخت ځاى د وعدې (د عذاب) د دوى، او قيامت ډېر سخت دى (چې نه لري هيڅ علاج) او ډېر تريخ دى (له عذابه د دنيا نه).

تفسير: يعنې دلته به څه ماتې وموميږي، د دوى اصلي ماتې به په هغه وخت كې وي چې قيامت په سر راودريږي، او هغه به د سخت مصيبت وخت وي.

إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾

بېشكه ګناهګاران په ګمراهى كې دي او په اور ګرم (د دوزخ او لېونتوب) كې دي. هغه ورځ چې راكش كړل به شي دوى په اور (د دوزخ) كې په مخونو د دوى (وبه ويل شي دوى ته زجرًا چې) وځكئ تاسې (مزه) د مس كولو رسېدلو (د اور) د دوزخ.

تفسير: يعنې په هغه وخت كې د غفلت لامله هك پك او حيران پاتې كيږي، او دا سودا يې هلته له ككرى څخه راووځي، چې په زېړو سترګو او مات اورمېږه د دوزخ په اور كې راښكوولى شي، او وبه ويل شى دوى ته زجرا د ملائكو په ژبه چې: «واخلئ ! اوس لږ څه د دې ګرم اور مزه هم وځكئ !».

إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾

بېشكه مونږ هر شى پيدا كړى مو دى په (پومبني ازلي) اندازه سره.

تفسير: هر راتلونکی شی لا له پخوا څخه د الله تعالی په علم کې شته، او کټمټ (هو بهو) هم هغسې لیکلی شوی دی، او له هغه څخه هیڅ یو شی وړاندې وروسته کېدونکی نه دی.

وَمَآ أَمۡرُنَآ إِلَّا وَٰحِدَةٞ كَلَمۡحِۭ بِٱلۡبَصَرِ ٥٠

او نه دی امر ځمونږ (یو شي لره چې اراده مو کړې ده د هغه د پیدا کولو) مګر (امر) یو ځل لکه رپول د سترګو.

تفسير: یعنې د سترګو په رپولو کې د هر څیز اراده چې الله تعالی وفرمایي، هم هغسې کوي، الله تعالی ته د یوه شي په جوړولو یا د یوه څیز په ورانولو کې هیڅ ځنډ نه واقع کیږي، او نه څه ربړ او مشقت ورپېښیږي.

وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَآ أَشۡيَاعَكُمۡ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ٥١

او خامخا په تحقیق هلاک کړي دي مونږ مشابه نظائر ستاسې (له سابقه وو امتونو)، نو آیا شته څوک یادوونکي پند اخیستونکي؟.

تفسير: یعنې تاسې غوندې ډېر کافران مو تباه کړي دي، نو په تاسې کې دغسې کوم فکر کوونکی نشته چې د هغو له احواله عبرت واخلي، او په صدق سره ایمان راوړي؟.

وَكُلُّ شَيۡءٖ فَعَلُوهُ فِي ٱلزُّبُرِ ٥٢

او هر هغه شی چې کړی دی هغوی (لیکلی شوی دی) په (پانو د اعمالنامو د دوی او په) لوح محفوظ کې.

تفسير: یعنې هر یو نېک او بد عمل وروسته له کولو څخه د هغوی په اعمالنامو کې لیکلی کیږي، او د پوښتنې په وخت کې دا ګرد کاغذونه او دفترونه وروړاندې کیږي.

وَكُلُّ صَغِيرٖ وَكَبِيرٖ مُّسۡتَطَرٞ ٥٣

او هر وړوکی او لوی (عمل که خیر وي که شر وي) لیکلی شوی دی (په لوح محفوظ کې).

تفسير: یعنې پخوا له دې څخه د هر وړوکیو او لویو شیانو تفصیل په لوح محفوظ کې لیکلی شوی دی، او ګرد دفترونه یې په منظم ډول سره مرتّب دي، تر دې چې ډېر یو وړوکی شی هم له قلمه نه دی لوېدلی.

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَنَهَرٖ ٥٤ فِي مَقۡعَدِ صِدۡقٍ عِندَ مَلِيكٖ مُّقۡتَدِرِۢ ٥٥

بېشکه ویریدونکي (پرهېزګاران) به په جنتونو کې وي او په ویالو کې وي (چې څکي له اوبو، شرابو، شاتو، شودو د هغو). په مجلس (حق) رښتیا (د جنّت) کې په نزد د باچا لوی قدرت لرونکي (چې هیڅوک یې نشي عاجزولی).

تفسير: وروسته له مجرمینو څخه اوس د متّقینو انجام بیان فرمایي، چې دوی به د خپل صدق په سبب د الله تعالی د استائي له رښتیا وعدې سره سم په یوه غوره ځای کې وي، چې هلته به یې د مالك الملك والملكوت د قرب دولت په لاس وي.

تمّت سورة القمر بعون الله وتوفيقه.

سُورَةُ الرَّحْمَٰنِ

«د (الرحمٰن) سورت مدني دی، (۷۸) آیتونه (۳) رکوع لري، په تلاوت کې (۵۵) او په نزول کې (۹۷) سورت دی، وروسته د (الرعد) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

الرَّحْمَٰنُ ﴿۱﴾ عَلَّمَ الْقُرْآنَ ﴿۲﴾

رحمان. ښوولی دی قرآن (هغه چا ته چې اراده یې شوې ده د قرآن ښوولو).

تفسیر: یعنې دغه قرآنکریم د الله تعالی په عطایاوو کې لویه عطیه ده، او د ده په نعمتونو کې له ګردو څخه لوی نعمت او رحمت دی، د انسان بساط ته او د هغه ظرف ته خیال وکړئ، او د قرآن د علم دا بې ځنډې لرونکي بحر او سیند ته وګورئ، او بیا ځیر شئ چې انسان ته یې سره له دومره ضعفه څومره عزّت او لویي د عظیم الشأن قرآن په وربښلو سره ورکړې ده.

تنبیه: د «النجم» په سورت کې یې وفرمایل چې: ﴿عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَىٰ﴾ الآیة ـ او دلته یې راڅرګنده کړه چې د قرآن اصلي ښوونکی الله تعالی دی، که څه هم د پرښتو په وسیلې سره یې رابښي.

خَلَقَ الْإِنسَانَ ﴿۳﴾ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴿۴﴾

پیدا کړی یې دی انسان. بیا یې ورښوولی دی بیان (خبرې چې د زړه مقصدونه یې پرې اداء کیږي).

تفسیر: «ایجاد» یعنې د وجود عطاء فرمایل د الله تعالی له لویو نعمتونو څخه دي، بلکه د ګردو نعمتونو ښیخ دی، او هغه په دوه ډوله دی، ایجاد د ذات، او ایجاد د صفت، نو الله تعالی اول سړی پیدا کړ، او په هغه کې یې د علم بیان صفت هم کښښود، یعنې قوّت یې وروښښه، چې د خپل زړه خبره په ډېره صفایي، حسن او ښه والي سره اداء کړی شي، او د نورو په خبرو او اترو باندې هم ښه وپوهیږي.

الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ﴿۵﴾

لمر او سپوږمی (جاري او روان) دي په حساب سره (چې پخپل تګ کې نه تیریږي له هغه نه).

تفسیر: یعنې د دواړو طلوع او غروب زیاتوالی او لږوالی یا په یو احوال باندې قائم پاتې کېدل، بیا د هغوی په وسیله د فصلونو او موسمونو بدلېدل، او په سُفلیّاتو باندې راز راز تأثیرات غورځول؛ د اکثرو تر یوه خاص حساب او ضابطې او مضبوط نظام لاندې دي، مجال نشته چې د هغه له ټاکلې دائرې څخه بهر ووځي، او د خپل مالک او خالق له ورکړیو شویو احکامو څخه مخ واړولی شي.

وَّالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدٰنِ ۝۶

او ستوري يا نباتات (چې ساق نه لري د ودرېدو) او ونې (چې ساق لري د ودرېدو) سجده کوي دوی دواړه (الله تعالی ته دغسې سجده چې له شان د دوی سره مناسبه ده، او ټول د الله تعالی تسبیح وایي چې بل پرې نه پوهیږي).

تفسیر: یعنې د علویّاتو په شان سفلیّات هم د خپل مالک مطیع او منقاد دي، له وړو کي تر کودې (نباتات) څخه نیولې تر غځېدلو پنګو جلغو (تاکو) لویو ونو او غنو؛ ګرد د هغه د تکوینی امر په مقابل کې سر په سجده دي، که بندګان دوی پخپلو چارو کې ولګوي؛ نو له هغه څخه هم انکار نشي کولی.

وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيْزَانَ ۝۷ اَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيْزَانِ ۝۸ وَاَقِيْمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ ۝۹

او اسمان پورته کړی دی (الله) هغه (پر ځمکه باندې)، او ایښی یې دی میزان (تله د عدل پر ځمکه). لپاره د دې چې ونه کړئ تاسې تېری په میزان تله (د عدل) کې. او برابروئ وزن تول په انصاف سره او مه کموئ میزان تلل (او کمی مه کوئ په تول کې).

تفسیر: د میزان څخه عدل او انصاف مراد دی، الله تعالی اسمانونه او ځمکې د عدل د پلي کولو په منظور پیدا کړي دي، او په دې عدل ټول نظام د دنیا ولاړ دی، نو انسان ته نه ښایي چې عدل او انصاف پرېږدي، او یا د میزان څخه دا معروفه تله مراده ده، چې انسان باید د تللو په وخت کې زیاتې ونه کړي.

وَالْاَرْضَ وَضَعَهَا لِلْاَنَامِ ۝۱۰

او ځمکه غوړولې ټیټه کړې ده (الله) لپاره د خلقو.

تفسیر: یعنې خلق په هغې باندې په آرامی او هوسایی سره تګ وکړي، او راشه درشه ولري، او خپل کاروبار دنده (وظیفه) قائمه وساتي.

فِيْهَا فَاكِهَةٌ وَّالنَّخْلُ ذَاتُ الْاَكْمَامِ ۝۱۱ وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ ۝۱۲

په دې (ځمکې) کې (ډول ډول) میوې دي، او خرماګانې دي خاوندانې د پوښو. او (په دې ځمکه کې دي ډول ډول) دانې خاوندانې د وښو او (خاوندانې) د خوشبویی ورقې د ښو وړمو.

تفسیر: یعنې مېوې او دانې هم له ځمکې څخه راوځي، او په غلو او دانو کې دوه شیان وي، اول دانه چې هغه زیاتره د انسانانو خواړه دي، بل واښه چې هغه د حیواناتو خوراکه ده، او ځینې نور شیان هم له ځمکې ځنې پیدا کیږي، چې یا د خوړلو لپاره پکار راځي، یا د خوشبویی لپاره او د ښو وړمو او د نورو چارو او کار فائده ورځخه اخیسته کیږي.

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝۱۳

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وایئ (او منکر پرېږئ تر پې ای انسانانو او پیریانو، بلکه نشئ کېدی).

تفسير: يعنې اى پيريانو او انسانانو ! په پاس آيتونو کې ستاسې د رب هغه عظيم الشّأن نعمتونه او د قُدرت لويې نښې چې بيان کړى شوې، تاسې به د هغو له منځه د کومو کومو څيزونو په دروغ ګڼلو باندې ځغردوالى او جرأت وکړئ، آيا دا نعمتونه او نښې د نه منلو او د انکار وړ (لايق) دي، بلکه نه دي.

عالمان د يوه صحيح حديث په بناء سره ليکي: «کله چې کوم سړى دا آيت ولولي: ﴿فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ﴾ يا يې واوري؛ نو داسې جواب دې وکړي: «لا بشيء من نعمك ربنا نكذب، فلك الحمد»، «اى ځمونږ پالونکيه ! مونږ ستاسې هيڅ يو نعمت نه شو دروغ ګڼلى، حمد او ثناوې ستاينې (صفتونه) تاته دي».

خَلَقَ الْإِنسَانَ مِن صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ﴿١٤﴾ وَخَلَقَ الْجَانَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ ﴿١٥﴾

پيدا کړى دى (الله) انسان (آدم) له خټې کړنګېدونکې وچې څخه په شان د کودرې. او پيدا کړى دى (الله) (پلار د) پيريانو (ابليس) له خالصې شُعلې د اور څخه چې دود يې نه درلود.

تفسير: يعنې د ګردو بنې آدمانو پلار مو له خاورې څخه، او د پيريانو پلار مو د اور له خالصو لمبو څخه پيدا کړى دى.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٦﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ښئ ترې اى انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدى).

تنبيه: ﴿فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ﴾ جمله په دې سورت کې (۳۱) يو ډېرش ځلې تکرار شوې ده، او په هر ځلې کې د يوه خاص نعمت په لورې اشاره شوې ده، يا د عظمت او قدرت له شئونو څخه يو خاص شان ته توجه په عمل راغلې ده، داسې مکرّرات د عربو او د عجمو په خبرو کې ډېر موندلى کيږي.

رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ ﴿١٧﴾

دى رب د دواړو مشرقونو (لمر ختو د ژمي او اوړي) دى، او رب د دواړو مغربونو (لمر پرېوتو د ژمي او اوړي) دى.

تفسير: په اوړي او ژمي کې له کومو ځايونو څخه چې لمر راخيژي، او په کومو کومو ځايونو چې لمر پرېوځي، همدغو ځايونو ته «مشرقين» او «مغربين» وايه شي، چې د همدې مشرقينو او مغربينو د تغيير او تبديل څخه موسمونه او فصلونه پيدا کيږي، او راز راز انقلابات څرګنديږي، د ځمکې هستېدونکيو ته له دې تغيراتو څخه په زرهاوو ګټې فوائد او مصالح ور رسيږي، نو د دوى بدلېدل او يو د بل په ځاى راتلل هم د الله تعالى لوى نعمت دى، او د الله تعالى له لويو قدرتونو ځنې يو عظيم قدرت دى.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٨﴾ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ ﴿١٩﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ ﴿٢٠﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ښئ ترې اى انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدى). بهولي يې دي دوه بحرونه سيندونه چې يو ځاى ښکاريږي. په منځ د دواړو کې يوه پرده ده چې نه ګډيږي يو په بل باندې.

تفسير: يعنې هسې نه دې چې خوږې او ترخې اوبه يو په بل باندې تېرې وکړي، او د مخامخ خوا په خاصيت کې څه تزييد او تبديل وارد کړي، يا د دې دواړو له يو ځای کېدلو څخه دومره اوبه زياتوب وکړي، چې د طوفان او ډوبېدلو وېره پيدا شي.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢١﴾ يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ ﴿٢٢﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٣﴾ وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَآتُ فِي الْبَحْرِ كَالْأَعْلَامِ ﴿٢٤﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدی). راوځي له دې دواړو څخه لؤلؤ او مرجان. پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدی). او خاص دغه (الله) لره دي ببړې تلونکې نوې پيدا کړی شوې لوړې په بحر سيند کې لکه لوی لوړ غرونه.

تفسير: يعنې کشتۍ او ببړی که څه هم په ښکاره ستاسې جوړ کړي شيان دي، مګر ستاسې جوړوونکی الله تعالی دی، او همغه پاک الله تاسې ته هسې قوّت، قدرت، ساز، او سامان دربښلی دی، چې د هغه په وسيله يواځې جهازونه نه بلکه په زرهاوو نور شيان جوړولی شئ، نو ځکه الله تعالی ستاسې او ستاسې د ګردو مصنوعاتو او مملوکاتو څېښتن او خالق دی، او دا ګرد د هغه نعمتونه او د ده د قدرت دلائل او ښېي دي.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٥﴾ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴿٢٦﴾ وَيَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴿٢٧﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدی). ټول هغه څوک چې په دې (ځمکه) کې دي؛ فاني کېدونکي دي، او باقي به پاتې شي مخ د رب ستا چې خاوند د جلال لويي دی، او (خاوند د) اکرام عزت ورکولو، عظمت، فضل او احسان دی.

تفسير: هيڅوک د ځمکې پر مخ پاتې کېدونکی نه دی، هر څه به فناء کېږي، يواځې د الله تعالی مخ چې د عظمت او اکرام خاوند دی؛ به پاتې کېږي، د الله تعالی د مخ ذکر وشو، چې دا د ټول ذات په پاتېکېدو دليل دی، الله تعالی لره مخ ثابت دی، خرنګه چې د ده د شان سره مناسب وي، کيفيت بيانول، او تمثيل او تشبيه يې د مخلوقاتو د مخونو سره ناروا ده، همدا راز په معنی کې يې تحريف کول باطل دي.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٨﴾ يَسْأَلُهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ ﴿٢٩﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدی). سوال غوښتنه کوي له دغه (الله څخه د رزق د مغفرت او دنورو حوائجو) هر هغه څوک چې په اسمانونو، او په ځمکه کې دي، هره ورځ هر وخت دی په يوه کار کې دی (لکه ژوندي کول، مړه کول او داسې نور).

تفسير: د ځمکې او اسمان ټول مخلوقات د حال او وينا په ژبه خپل حاجات د الله تعالی څخه غواړي، او الله تعالی هره ورځ يو کار ترسره کوي، څوک وژني، څوک پيدا کوي، يو رنځوروي، يو جوړوي، له يوه څخه دنيا اخلي، او بل ته يې ورکوي، يو ځای ودانوي، بل ځای ورانوي، لنډه دا: هر څه چې غواړي؛ کوي يې.

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۴﴾ سَنَفْرُغُ لَكُمْ اَيُّهَ الثَّقَلٰنِ ﴿۳۵﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۶﴾ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ
وَالْاِنْسِ اِنِ اسْتَطَعْتُمْ اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ فَانْفُذُوْا لَا تَنْفُذُوْنَ اِلَّا بِسُلْطٰنٍ ﴿۳۷﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدی). ژر ده چې فارغ وزګار به شو مونږ (او قصد به وکړو حساب د) تاسې ته ای دوو درنو قبيلو (د انسانانو او پيريانو).پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پيريانو، بلکه ترې منکر ېدی نشئ چې دا د الله له جانبه نه دي). ای ټولیه د پيريانو او د انسانانو ! که چېرې قدرت لرئ تاسې چې بهر ووځئ (وتښتئ تاسو) له څنډو (غاړو) د اسمانونو او (له څنډو د) ځمکې څخه، پس ووځئ، وتښتئ، وبه نه وځئ وبه نه تښتئ تاسې مګر په قوت او زور سره (چې نه يې لرئ !).

تفسير: په ﴿سَنَفْرُغُ﴾ کې مقصود د الله تعالی له جانبه په حساب سره د خلقو ويرول دي ، نه وزګار ېدل دي له څه کار څخه په رښتيا سره، ځکه چې نه مشغولوي الله تعالی يو کار له بل کار څخه، يعنې که څوک وغواړي چې د الله تعالی له حکومت څخه وتښتي؛ نو بې له قوّت او غلبې څخه به څرنګه وتښتي؟ آيا پرته (علاوه) له الله جل جلاله څخه بل څوک قوّتمن او زورور شته؟ نو دی به چېرې وتښتي؟ بله باچايي او قلمرو کوم دی چې دی هلته لاړ شي، برسېره پر دې د دنيا معمولي حکومتونو ته هيڅوک بې سنده او بې پاسپورټه نه پرېږدي چې لاړ شي يا راشي، نو الله تعالی به څرنګه چاته اجازه ورکړي چې بې له سنده بل چېرې لاړ شي.

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۸﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدی).

تفسير: يعنې داسې په ښکاره ډول به ګرد وړاندې او وروسته او لاندې باندې درښيي، او پر هر شي باندې تاسې خبروي، چې هر يو له دوی څخه لوی نعمت دی، نو آيا تاسې به د دې لويو نعمتونو هيڅ قدر نه کوئ؟ او د الله تعالی هسې عظيم الشأن قدرتونه به دروغ ګڼئ.

يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّنْ نَّارٍ ۙ وَّنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرٰنِ ﴿۳۵﴾

وبه لېږلی شي په تاسې باندې خالصې لمبې له اوره او په لوګي (سره ګډې، يا خالي له اوره)، بيا به تاسې مدد نشئ کولی يو له سره (په دفع د عذاب کې.)

تفسير: يعنې کله چې په ګنهګارانو باندې د اور صافې لمبې او د لوګي سره ګډې لمبې پرېښودی شي؛ نو هيڅوک به د هغو مخه نشي نيولی، او نه به يې په دفع پوهيږي، او نه به د هغې سزا کوم بدل او انتقام اخيستی شي.

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۶﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدی).

تفسير: يعني مجرمانو ته سزا ورکول او د هغوی د سزا بيان کول هم وفادارانو لره نعمت دی، چې خلق د هغې د اوربدلو لامله له هغه جُرم څخه ځان وژغوري (وساتي)، نو دا يو مستقل انعام دی.

فَإِذَا انشَقَّتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ﴿٣٧﴾

بيا کله چې وچوي، څيري شي اسمان؛ نو وبه ګرځي ګل سور رنګ لکه سرې څرمنې (يا د زيتون تېل).

تفسير: يعني د قيامت په ورځ کې به اسمان وچوي، او رنګ به يې لکه سره څرمن غوندې بريښي، يا به په شان د تېلو د زيتون ځلېدونکې پرقېدونکې وي، نو دا به څه لوی هيبت وي.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٨﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْأَلُ عَن ذَنبِهِ إِنسٌ وَلَا جَانٌّ ﴿٣٩﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدی). نو په دغه ورځ (د چاودېدلو، څيريدلو د اسمان) کې نه به پوښتېدل کيږي له ګناه د دوی نه (نه) له انسانانو او نه له پيريانو.

تفسير: يعني له کوم سړي يا پيري څخه به د هغه د ګناه د معلومولو په نسبت څه پوښتنې نه کيږي، ځکه چې الله تعالى ته هغه ټول څرګند دي، هو ! د الزام او توبيخ او ويرولو په ډول به پوښتنې ورځنې کوي، لکه چې (۱۴ جزء د الحجر سورت کې (۶) رکوع (۹۲) آيت کې) داسې راغلي دي: ﴿فَوَرَبِّكَ لَنَسْأَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ﴾ يا دا مطلب چې له قبر څخه د وتلو په وخت کې هسې پوښتنې نه کيږي، او له هغه څخه وروسته پوښتنه له هغه څخه منافي نه ده.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٠﴾ يُعْرَفُ الْمُجْرِمُونَ بِسِيمَاهُمْ

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدی). پېژندل کيږي ګنهګاران (کافران) په علائمو نښو د دوی سره.

تفسير: يعني د بنو له توروالي او د سترګو د شينتوب به مجرمان پخپله پېژندل کيږي، بلکه چې مؤمنان مسلمانان به د اوداسه او لمانځه د نښو په لرلو سره له لرې هر چاته ښکاري، او د عباداتو انوار او آثار د هغوی سينګار زياتوي.

فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي وَالْأَقْدَامِ ﴿٤١﴾

نو وبه نيولی شي (دغه منکران) په (ويښتو د) وچولي (تندي) سره او په قدمونو سره (او وبه غورځولی شي په اور کې).

تفسير: يعني ځينې به له پيکيو څخه او ځينې به له پښو څخه نيسي، په دوزخ کې به يې اچوي، او په راښکودلو سره يې د اور په لوري کش کوي، يا د هر مجرم پنډی او هډوکي ماتاوه شي، او د هغوی وچولی له پښو سره يو ځای کاوه شي، او په ځنځيرونو او نورو سره يې ترلې په دوزخ کې غورځاوه شي.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٢﴾ هَٰذِهِ جَهَنَّمُ الَّتِي يُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُونَ ﴿٤٣﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدی). دا دوزخ دی هغه چې دروغ به يې ګڼلو دې لره مجرمانو (کافرانو).

تفسير: يعنې هلته به داسې ورته ويل کيږي، چې دا هغه دوزخ دی چې په دنيا کې ته د هغه له وجود څخه منکر وې.

يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ آنٍ ﴿۴۴﴾

ګرځي به دوی په منځ د دوزخ او په منځ د اوبو ډېرو تودو ډېرو ګرمو کې.

تفسير: يعنې کله به د اور او کله به د ډېرو تودو او ايښدلو اوبو عذاب مومي: «ای لويه څښتنه ! له دې دوو تکليفونو او له نورو تکليفونو څخه مو تل وساتې !».

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۴۵﴾ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ﴿۴۶﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدی). او هغه چا لره چې ويريږي (په وخت د ګناه کې) له ودرېدلو څخه په مخ د رب خپل کې (حساب ته) دوه جنّتونه دي.

تفسير: يعنې هغه سړی چې په دنيا کې له دې خبرې څخه ويرېده، چې زه به يوه ورځ د خپل پاک پروردګار په مخ کې ودرېږم، او د يوې يوې ذرې او ککی شمېر به ورکوم، او له دې وېرې څخه به يې د الله تعالی له نافرمانی څخه ځان ساته، او د تقوی په سمه لاره باندې به يې تګ کاوه؛ نو ځکه هسې سړيو ته دوه عاليشان جنّتونه ورکول کيږي، چې د هغو صفتونه لاندې راځي.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۴۸﴾ ذَوَاتَا أَفْنَانٍ ﴿۴۸﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدی). (هسې جنتونه) چې خاوندان د ډېرو ډېرو څانګو دي.

تفسير: يعنې په جنّت کې د مختلفو اقسامو راز راز مېوې به وي، او د ونې څانګې به ډېرې مېوې او ښه سيوري لري.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۴۹﴾ فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴿۵۰﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدی). په دواړو (جنتونو) کې به دوه چينې وي چې بهيږي به (هر چېرته يې چې غواړي دوی).

تفسير: چې اوبه يې نه لږې کيږي او نه وچيږي، او تل بهېدونکې دي، او هر چېرې چې د دې جنتي زړه وغواړي؛ هلته ځي، د دغو چينو نومونه دا دي: «تسنيم» او «سلسبيل».

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۵۱﴾ فِيهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴿۵۲﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۵۳﴾ مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ فُرُشٍ بَطَائِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پيريانو، بلکه نشئ کېدی). په دې دواړو (جنّتونو) کې به له هرې مېوې (آشنا ناآشنا وچه لمده او نور) دوه دوه قسمه وي. پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وايئ (او منکر ېږئ ترې ای

انسانانو او پیریانو، بلکه نشئ کېدی). تکیه کوونکي به وي پر هسې فرشونو باندې چې استرونه د هغو به له ورېښمو کلکو څخه به وي.

تفسیر: کله چې د هغه استر له کلکو ورېښمو څخه وي، نو له هغې ځنې دې اټکل او قیاس وکړ شي، چې د هغه مخ به له څه نرم او پاسته ورېښمین او ښه توکي څخه وي؟.

وَجَنَا الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ﴿۵۴﴾

او شوکول (د مېوې د دغو) دوو جنّتونو به تر لاس لاندې وي.

تفسیر: چې د هغو شوکول دانه دانه کول به ډېر آسان وي، په ولاړه، ناسته، ملاسته او په هر یوه حالت او ډول چې جنّتیان وغواړي؛ ټولولی یې شي، او له هغو څخه په زړه پورې خوند اخیستی شي.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۵۵﴾ فِيهِنَّ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ﴿۵۶﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وایئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پیریانو، بلکه نشئ کېدی). په دغو (جنّتونو) کې به بندوونکې د سترګو (حورې) وي چې نه وي مسه کړي دوی لره انسان پخوا له دغو (جنّتیانو مېړونو «خاوندانو» خپلو) او نه پیري.

تفسیر: یعنې د هغو عصمت ته د هیچا ګوته نه ده رسېدلې، او نه دوی پرته له خپلو مېړو څخه د نورو په لوري خپلې سترګې غړوي.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۵۷﴾ كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ ﴿۵۸﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۵۹﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وایئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پیریانو، بلکه نشئ کېدی). ګواکې دغه (حورې) یاقوت لعل وي (په صفایي) او مرجان وي (په سپینوالي کې).پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وایئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پیریانو، بلکه نشئ کېدی).

تفسیر: یعنې هسې خوشرنګې او بېش بها او قیمتدارې به وي.

هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ ﴿۶۰﴾

نه ده جزاء بدل د احسان نیکي مګر احسان نیکي ده.

تفسیر: یعنې د ښو بندګانو بدل پرته له ښه ثوابه بل څه کېدی شي؟ دې جنّتیانو په دنیا کې د الله تعالی داسې ډېر ښه عبادتونه کړي وو، ګواکې هغوی الله تعالی پخپلو سترګو سره لیدو، او الله تعالی هم هغوی ته انتهایي بدل ورکړ.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۶۱﴾ وَمِنْ دُونِهِمَا جَنَّتَانِ ﴿۶۲﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وایئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پیریانو، بلکه نشئ کېدی). او بې له دغو (دوو جنّتونو) دوه جنتونه نور هم دي.

تفسیر: ښایي وړاندنی باغ مقربینو لره وي، او دا دوه باغونه ښو ډلو (اصحاب یمین) لره وي.

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝ مُدْهَآمَّتٰنِ ۝

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وایئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پیریانو، بلکه نشئ کېدی). تک تور به وي (له ډېر شینوالي څخه).

تفسیر: یو څیز چې ډېر زیات شین شي؛ توروالي ته اوړي.

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝ فِيْهِمَا عَيْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ۝ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝ فِيْهِمَا فَاكِهَةٌ وَّنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ ۝

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وایئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پیریانو، بلکه نشئ کېدی). وي به په دغو (جنّتونو) کې دوه چینې جوش وهونکې. پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وایئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پیریانو، بلکه نشئ کېدی). وي به په دغو (دوه جنتونو) کې هر راز مېوې او خرما او انار.

تفسیر: خو د دنیا په انارو او کجورو باندې دې قیاس ونه کړل شي، ولې چې د هغو مېوو کیفیّت او څنګوالی بل رنګ دی، او یواځې پاک الله تعالی ته معلوم دی.

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝ فِيْهِنَّ خَيْرٰتٌ حِسَانٌ ۝

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وایئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پیریانو، بلکه نشئ کېدی). وي به په دغو (ټولو جنّتونو) کې حورې پیمخې نېکې ښایسته.

تفسیر: یعنې په دغو څلور واړو جنّتونو کې به پېغلې وي، ښې رڼې، پیمخې ښکلې.

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝ حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ فِي الْخِيَامِ ۝

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وایئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پیریانو، بلکه نشئ کېدی). حورې به وي پټې کړی شوې په خیمو کې.

تفسیر: له دې څخه راښکاري چې د ښځې لویه بزرګي او صفت ستر او پرده ده، او د ښځې اصلي ډول او سینګار په کور او په پرده کې دی، او ښایي چې پخپلو کورونو کې درنې لکه مرغلرې ناستې وي.

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ۝ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝ مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَّعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ۝ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝ تَبٰرَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ۝

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وایئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پیریانو، بلکه نشئ کېدی). چې نه به وي مسه کړې دوی لره سړي پخوا له دغو (جنتیانو مېرو خپلو) او نه پیري. پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وایئ (او منکر ېږئ ترې ای انسانانو او پیریانو، بلکه نشئ کېدی). تکیه کوونکي به وي دوی پر بالښتونو شین رنګو باندې، او پر فرشونو نفیسو عمده وو ښایسته وو باندې. پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب تاسې دروغ وایئ

(او منكر ېږئ ترې ای انسانانو او پیریانو، بلکه ترې منکر ېدی نشئ چې دا د الله له جانبه نه دي).
برکت ناک دی نوم د رب ستا چې خاوند د لویي، سترتوب او د عزت ورکولو او د انعام دی.

تفسیر: یعنې هغه څوک چې په خپلو وفادارانو باندې دومره احسان او انعام وفرمایي؛ نو غور وکړئ چې په ګردو نعمتونو کې اصلي سبه والی د ده د پاک نامه له برکته په لاس راځي، او د ده د نوم اخیستلو په وسیله دا نعمتونه حاصلیږي، بیا وپوهیږئ په هغه نامه کې چې دومره برکت وي؛ نو په مسمی کې به یې څومره برکات او حسنات وي.

تمّت سورة الرحمٰن بفضل الله الملک المنّان، فله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الْوَاقِعَةِ

«د (الواقعة) سورت مکي دی، يې له (۸۱ ۸۲) آيتونو چې په مدينه کې نازل شوي دي، (۹۶) آيتونه او درې رکوع لري، په تلاوت کې (۵۶) او په نزول کې (۴۶) سورت دی، وروسته د (طه) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١﴾ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴿٢﴾

کله چې واقعه شي واقع کېدونکې (قيامت). نشته پېښېدلو د هغې لره هيڅ نفس دروغ کوونکی (او انکار کوونکی لکه چې به وو تر منکر په دنيا کې).

تفسير: يعنې کله چې قيامت شي؛ نو دا به ښکاره شي چې هغه يوه رښتيا خبره وه، او هيڅوک يې مخه نشي نيولی، او نه يې بېرته شړلی شي، او هسې دعوی چې الله تعالی مړي نه ژوندي کوي، او نور ګرد دروغ ثابتيږي.

خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴿٣﴾

(قيامت) ښکته کوونکی دی (د کفّارو په جحيم) پورته کوونکی دی (د ابرارو په نعيم).

تفسير: يعنې يوه ډله به پورته بېوله کيږي، او بله ډله به ښکته شړله کيږي، او لوی متکبّران چې په دنيا کې دوی خپل ځانونه لوی ګڼل؛ د أسفل السّافلين په لوري راښکودل شي، او د دوزخ په اور کې به سوځي، او ډېرو متواضعينو او له الله تعالی ځنې ويرېدونکيو ته به چې په دنيا کې به وړوکی او حقير ښکارېدل؛ د ايمان او صالح عمل په وسيله دجنّت لوړ ځايونه وربښل کيږي.

إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا ﴿٤﴾ وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ﴿٥﴾ فَكَانَتْ هَبَاءً مُّنْبَثًّا ﴿٦﴾

کله چې وخوځولی شي ځمکه په لړځولو سختو سره. او ورېژول شي غرونه په رېژولو سختو سره. نو شي به دا غرونه يوه دوړه خوره کړی شوې.

تفسير: يعنې په ځمکه کې به سخته رېړدېدنه (زلزله) پيدا شي، او ګرد غرونه به توتې توتې شي، او له بحر کو څخه به يې هسې دوړې او ګردونه پورته کيږي، چې ټوله دنيا به په هغه کې ډوبيږي.

وَكُنتُمْ أَزْوَاجًا ثَلَاثَةً ﴿٧﴾

او شئ به تاسې صنفونه درې (دوه جنّتيان او يو دوزخيان).

تفسير: يعنې د قيامت له وقوع څخه وروسته ګرد خلق په درې برخو ويشل کيږي، دوزخيان عام جنتيان او د مقرّبينو خواص چې د جنّت په اعلی درجاتو رسيږي، وروسته د دې درې واړو ذکر په مجمل ډول سره رائي، او بيا د هغو احوال په تفصيل سره بيانيږي.

فَأَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ﴿٨﴾

پس ياران ملګري د ښي لاس څومره ښه دي ياران ملګري د ښي لاس.

تفسير: يعنې هغه خلق چې د عظيم عرش په ښي خوا کې وي، او هغوی د ميثاق اخيستلو په وخت کې هم د آدم عليه السلام له ښي خوا څخه ايستلی شوي وو، او د هغوی اعمالنامې هم د هغوی په ښي لاس کې ورکولی کيږي، او پرښتې يې هم د دوی له ښي لاس څخه اخلي، نو هغه ورځ د دوی ښه والی او برکت ډېر زيات او د دوی مرتبه به ډېره لوړه وي، ځمونږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم د معراج په شپه کې د همدوی په نسبت داسې يوه نندارہ کړې وه، چې آدم عليه السلام به کله چې خپل ښي لاس ته کاته؛ نو مسکېدل او تبسّم به يې کاوه، او کله چې به يې خپل کين لاس ته وکتل؛ نو له ژړا پورې راورې کېده، نو دغه «أصحاب اليمين» خورا ښه نېک بختان دي، او د داسې ښو درجو او نعمتونو خاوندان دي، چې هر څوک پرې تعجّب کوي.

وَأَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ﴿٩﴾

او ياران ملګري د کين لاس څومره بد سپک دي ياران ملګري د کين لاس.

تفسير: يعنې دا خلق د آدم عليه السلام له کينې خوا څخه ايستلی شوي، او د عرش عظيم په کينې خوا کې ودرولی شوي، او د دوی اعمالنامې هم په کين لاس ورکولی کيږي، او پرښتې يې د هغوی له کين لاس څخه کش کوي، نو دوی ډېر بدبخت او په ډېرو ډېرو ربړو او نحوستونو اخته دي، چې هر څوک پرې تعجّب کوي.

وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ﴿١٠﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿١١﴾ فِى جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿١٢﴾

او ړومبی کېدونکي (حسناتو ته) هم دوی ړومبی کېدونکي دي (جنّت ته). هم دوی نژدې کړی شوي دي (الله ته). په جنّتونو د نعمتونو کې به وي.

تفسير: يعنې هغه خلق چې په دنيا کې د علميه وو او عمليه وو کمالاتو او د تقوی د مراتبو لامله وړاندې وي؛ نو په آخرت کې به هم د ښي لاس له ډلې څخه وړاندې تيريږي، او لوړو مرتبو ته خيژي، نو دوی به د الله تعالی په رحمتونو او تقرّب او وجاهت په مراتبو کې له ګردو څخه په مخکې وي، او ابن کثير (رحمه الله) وايي چې: دا خورا منلی سړي به پيغمبران، رسولان، صديقان، شهيدان وي، چې الله تعالی ته به مخامخ ودريږي.

ثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ وَقَلِيلٌ مِّنَ ٱلْءَاخِرِينَ ﴿١٤﴾

لويه ډله به وي له اوّلينو ړومبنيو څخه. او لږ دي له آخرينو وروستنيو څخه.

تفسير: شاه صاحب ليکي: «ړومبی يې ړومبني امّتونه ياد کړل، او وروسته يې دا (محمّدي) امّت ياد کړ، يا به له وړاندې او وروسته څخه د همدې محمّدي امت مقدم او مؤخر کسان مراد وي، يعنې اعلی درجه سړي پخوا ډېر وو، او وروسته به لږ کيږي»، ابن کثير (رحمه الله) له دې آيت څخه يو درېيم مطلب هم اخيستی، چې مونږ ته هغه غوره ښکاري، يعنې د هر امت په وړاندينيو پېړيو کې د نبي د صُحبت يا د قرب عهد له برکته اعلی درجه مقرّبين هومره چې زيات وي، په وروستنيو پېړيو کې يې دومره نه پاتې کيږي.

عَلَىٰ سُرُرٍ مَّوْضُونَةٍ ﴿١٥﴾

ناست به وي (جنّتيان) په تختونو اوبدليو شويو چړاو کړيو شويو په زرو جواهرو باندې.

تفسير: چې دغه جنّتي تختونه په سپنسو د سرو زرو او جواهرو سره اوبدلی شوي وي.

مُتَّكِـِٔينَ عَلَيْهَا مُتَقَٰبِلِينَ ﴿١٦﴾

چې تکيه وهونکي به وي (جنّتيان) په هغو (تختونو) باندې مخامخ کښاستونکي يو بل ته.

تفسير: يعنې د دوی کښاستل به په داسې يو ډول سره وي چې د هيڅ يوه شا به د بل په لوري نه وي، او يو به د بل په ليدلو سره خوشاليږي.

يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَٰنٌ مُّخَلَّدُونَ ﴿١٧﴾

ګرځي به په دوی باندې (لپاره د خدمت) هلکان تل پاتې کيدونکي (په هلکوالی سره).

تفسير: يعنې د دوی د خدمت لپاره به هسې هلکان نه تاکلی شوي وي، چې تل به هغوی په همغه يوه صحيح او اندازه عمر او منګ وي، او ګرځي به دغه هلکان پر دغو جنّتيانو.

بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ وَكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴿١٨﴾ لَّا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا وَلَا يُنزِفُونَ ﴿١٩﴾

په ګلاسونو او په کوزو سره، او په کاسو لوښيو سره له صافو پاکو شرابو بهيدونکيو څخه. چې نه به سر خوږيږي له دغو (شرابو)، او نه به بې هوشه کيږي چې ويږي (ترې).

تفسير: يعنې ډېر ښه او پاک شراب چې د هغو قدرتي چينې به په جنّت کې بهيږي، او د هغو له څښلو څخه به نه په سر کې خوږ پيدا کيږي، او نه به يې څښونکی چې او اپلټې خبرې کوې ،ځکه چې په هغو کې به نشه نه وي، او يواځې د خوښۍ، سرور، خوند، لذّت او خوشالۍ څخه به ډک وي.

وَفَٰكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢١﴾

او (ګرځي به په دوی باندې هلکان په) مېوو له هغه راز چې يې خوښوي (جنّتيان). او غوښو د مرغانو سره له هغه ډوله چې زړونه يې غواړي.

تفسير: يعنې هر کله يې چې مېوه زړه وغواړي، او هر راز غوښه يې چې خوښه وي؛ بې له زحمته او تکليفه هغه ورته رسيږي.

وَحُورٌ عِينٌ ﴿٢٢﴾ كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ ﴿٢٣﴾

او (ګرځي به په دغو جنّتيانو باندې) حورې پيمخې غټ سترګې په شان د لؤلؤ مرغلرو ساتليو شويو په پوښو کې.

تفسير: يعنې لکه صافې او پاکې مرغلرې غوندې چې د هيڅ ګرد او دوړو اثر او اغېزه به په کې نه وي.

جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٢٤﴾ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ﴿٢٥﴾ إِلَّا قِيلًا سَلَٰمًا سَلَٰمًا ﴿٢٦﴾

جزاء بدل ورکول دي په هغو چې وو دوی چې کول به يې (له حسناتو په دنيا کې). نه به اوري دوی په دغه (جنّت کې) چې خبرې او نه د ګناه خبرې. مګر اوري يوه خبر سلام سلام (يعنې تل به سلام اچوي جنّتيان يو په بل باندې په جنّت کې).

تفسير: يعنې چې خبرې، لغويّات او واهيات به هلته بيخي نه وي، او نه به څوک دروغ وايي، او نه به پر چا باندې تُهمت او تور تړل شي، يوائې له هرې خوا څخه د سلامونو غږونه پورته کيږي، چې جنّتيان به يو بل باندې سلامونه اچوي، او پرښتې به همدوی ته سلام اچوي، او د الله تعالى سلامونه به هم دوی ته ورړسيږي، چې هغه خورا د عزّت او احترام صورت لري، او په ډېر اعزاز او اکرام سره اجراء کيږي.

وَأَصْحَٰبُ ٱلْيَمِينِ ۙ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْيَمِينِ ﴿٢٧﴾ فِى سِدْرٍ مَّخْضُودٍ ﴿٢٨﴾

او ملګري ياران د ښي لاس څومره ښه دي ملګري ياران د ښي لاس. په بېرو بې اغزيو کې به وي.

تفسير: چې په راز راز خوندورو ګلانو کې پټې وي.

وَطَلْحٍ مَّنضُودٍ ﴿٢٩﴾ وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ ﴿٣٠﴾

او په کېلو له ښخه تر سره ډکو کړيو شويو کې به وي. او په سيورو اوږدو کړيو شويو همېشه وو کې به وي.

تفسير: يعنې نه د لمر تکليف وي، او نه د ګرمۍ، او نه د يخنۍ له لاسه کوم زحمت ورړسيږي، نه به تياره وي، تل به هسې وخت وي لکه چې د لمر خټُو له وخت څخه لږ څخه پخوا وي، او هسې يو برابر او ښه اوږد سيوری وي؛ چې ډېر ګړندی اس به په پنځه سوو پر له پسې کلونو تګ سره نشي ترې وتلی.

وَمَآءٍ مَّسْكُوبٍ ﴿٣١﴾ وَفَٰكِهَةٍ كَثِيرَةٍ ﴿٣٢﴾ لَّا مَقْطُوعَةٍ وَلَا مَمْنُوعَةٍ ﴿٣٣﴾

او په اوبو بهېدونکيو توئيدونکيو همېشه وو کې به وي. او په مېوو ډېرو که به وي. چې نه به قطع کولى کيږي په هيڅ وخت. او نه به منع کولى کيږي په هيڅ عذر سره.

تفسير: يعنې هر راز مېوې به وي چې پرته له جنّتيانو څخه به هيڅا ګوتې نه وي وروړې، او نه به چا پرې کړې وي، او نه د دنيا د موسمې ميوو غوندې وي چې کله وي او کله نه وي، او نه به په کې څه ډيل او انقطاع پېښيږي، بلکه تل ښه او تاندې او خوندورې مېوې موجودې وي، او بلا ممانعت او تکلّف به هر وخت ورتقديميږي.

وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴿٣٤﴾

او په فرشونو اوچتو کړيو شويو کې به وي (په پالنګونو باندې).

تفسير: يعنې خورا پر پړ او جګ به وي، او له ظاهري او باطني حيثيته به هم خورا ښه اعلى عمده او هسک وي.

إِنَّآ أَنشَأْنَٰهُنَّ إِنشَآءً ﴿٣٥﴾ فَجَعَلْنَٰهُنَّ أَبْكَارًا ﴿٣٦﴾ عُرُبًا أَتْرَابًا ﴿٣٧﴾ لِّأَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴿٣٨﴾

بېشکه مونږ نوي پيدا کړي دي دغه حورې په يوه ښه پيدا کولو سره. نو ګرځولې مو دي دوی بکرې پيغلې عاشقانې (پر جنتيانو خاوندانو خپلو) همزولې (په خپل مابين کې). لپاره د ملګرو يارانو د ښي لاس.

تفسير: يعنې حُورې او د دنيا ښځې چې په جنّت کې سره ګډيږي؛ نو هلته د دې دنيا د ښځو پيدايش وده او ښايست به د الله تعالى په قدرت هسې وي چې تل به پيمخې، پېغلې، ښايسته او په زړه پورې وي، او د هغوی خبرې اترې، طرز،

اداء او ناز او طبيعي مينه د خپلو مېړو شوق ځان ته ورکش کوي، او تل به دوی د خپلو مېړو سره همزولې هم منګې او هم فکره وي.

ثُلَّةٌ مِّنَ الْأَوَّلِينَ ﴿۳۹﴾ وَثُلَّةٌ مِّنَ الْآخِرِينَ ﴿۴۰﴾

(أصحاب اليمين به) لويه ډله وي له اولينو ړومبنيو خلقو څخه. او لويه ډله به وي له آخرينو وروستنيو خلقو نه.

تفسير: يعنې أصحاب اليمين په پخوانيو کې هم ډېر وو، او په وروستنيو کې به هم ډېر وي.

وَأَصْحَابُ الشِّمَالِ ۖ مَا أَصْحَابُ الشِّمَالِ ﴿۴۱﴾ فِي سَمُومٍ وَحَمِيمٍ ﴿۴۲﴾ وَظِلٍّ مِّن يَحْمُومٍ ﴿۴۳﴾ لَّا بَارِدٍ وَلَا كَرِيمٍ ﴿۴۴﴾

او ملګري ياران د کين لاس څومره بد دي ملګري ياران د کين لاس. په اور تاوده کې به وي او په سوځوونکيو اوبو کې به وي. او په سيوړې کې به وي د لوګي ډېر تور. چې نه به سوړ وي او نه به د عزّت راحت وي.

تفسير: يعنې د دوزخ د اور تک تور لوګی به پورته کيږي، او دوی به د هغه لوګي تر هغه سيوري لاندې ودرول کيږي، چې هلته به دوی ته هيڅ يـو جسماني او روحاني آرام او هوسايي نه رسيږي، نه به يخني وررسيږي، او نه به هغه د پت او عزّت سيوری وي، ډېر ذليل او خوار به د هغه سيوري تر سوځوونکي بړاس لاندې په ربړو (تکليفونو) اخته وي، دا د هغوی د دنيوي خوشالی بدل دی، چې هغوی د هغه په غرور او ضد سره د الله تعالی او د هغه د رسول مخالفت کاوه.

إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَٰلِكَ مُتْرَفِينَ ﴿۴۵﴾ وَكَانُوا يُصِرُّونَ عَلَى الْحِنثِ الْعَظِيمِ ﴿۴۶﴾

(دا عذابونه په سبب د دې وو چې) بېشکه دوی وو پخوا له دې څخه په دنيا کې ودان کړی شوي په نعمتونو کې خوشال. او وو دوی چې دوام اصرار ضد به يې کاوه پر ګناه لويه (کفر) باندې.

تفسير: هغه لويه ګناه کفر او شرک او د انبياوو تکذيب يا هسې دروغ قسمونه دي چې وايي يې: «له مړينې څخه وروسته هيڅ کله بيا ژوندون نشته».

وَكَانُوا يَقُولُونَ أَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿۴۷﴾ أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ ﴿۴۸﴾

او وو دوی چې ويل به يې: آيا کله چې مړه شو مونږ، او شو خاوري او هډوکي؛ آيا بېشکه مونږ به بيا خامخا راپورته کړی شو؟. او پلرونه ځمونږ ړومبني هم (به بيا ژوندي راپورته کيږي؟ بلکه نه کيږو).

تفسير: هغه مړي هم ژوندي کيږي چې له مونږ څخه پخوا مړه شوي دي، يعنې دا خبره د چا په فکر او پوهې کې راتلی شي؟.

قُلْ إِنَّ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ ﴿۴۹﴾ لَمَجْمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿۵۰﴾

ووايه ته (ای محمده ! دوی ته) بېشکه چې ړومبني (خلق) او وروستني (خلق). به خامخا ګرد به ټول کړل شي وخت د ورځې معلومې ته (چې قيامت دی).

تفسير: يعنې د قيامت ورځ چې د هغې وخت يواځې الله تعالى ته ښكاره دى، او د ده په علم كې مقرّر او مقدّر دى.

ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا الضَّالُّونَ الْمُكَذِّبُونَ ﴿۵۱﴾ لَآكِلُونَ مِن شَجَرٍ مِّن زَقُّومٍ ﴿۵۲﴾ فَمَالِـُٔونَ مِنْهَا الْبُطُونَ ﴿۵۳﴾

بيا به بېشكه تاسې اى ګمراهانو دروغ ويونكيو. خامخا خوړونكي به يئ (په دوزخ كې) له ونې د زقّوم څخه. پس ډك كوونكي به يئ له هغې (ونې) څخه ګېډو خپلو لره.

تفسير: يعنې كله چې د لوږې له لاسه ترهور (مضطرب) شي؛ نو دا ونه دوى ته د خوړلو لپاره ورکوله كيږي، او دوى به له هغې څخه خپلې ګېډې ډكوي.

فَشَٰرِبُونَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيمِ ۖ فَشَٰرِبُونَ شُرْبَ الْهِيمِ ﴿۵۵﴾

پس څښونكي به يئ تاسې په هغه (زقوم خوړلي شوي) باندې له اوبو سوځوونكيو څخه. پس څښونكي به يئ (په شان) د څښلو د اوښانو ډېرو تږو.

تفسير: يعنې هسې چې اوښ په ډېره سخته ګرمۍ كې د ډېرې تندې له لاسه وروسته له دې چې څو ورځې يې اوبه نه وي څښلې، او بيا اوبو ته وورسيږي؛ نو اوبه په ډېره وارخطايي سره څښي، چې يو څاڅكى هم نه ترې پاتې كيږي، دوزخيان به هم همداسې هغه سوځوونكې اوبه څښي، چې د هغوى خولې به تښاكې او كولمې به يې ټوټې ټوټې لويږي، (العياذ بالله).

هَٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّينِ ﴿۵۶﴾

دا (خوړل او څښل چې ذكر شول) مېلمستيا د دوى ده په ورځ د جزاء انصاف كې.

تفسير: يعنې د انصاف اقتضاء همداسې ده چې د هغو منكرانو مېلمستيا همدا راز وكړه شي.

نَحْنُ خَلَقْنَٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُونَ ﴿۵۷﴾

مونږ پيدا كړي يئ تاسې (له نشتوالي څخه) نو ولې تاسې باور يقين نه كوئ په ژوندون پس له مرګه؟.

تفسير: يعنې دا خبره ولې نه منئ چې پخوا هم پيدا كوونكى الله تعالى دى، او بيا هم پيدا كوونكى همغه الله تعالى دى؟.

أَفَرَءَيْتُم مَّا تُمْنُونَ ﴿۵۸﴾ ءَأَنتُمْ تَخْلُقُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ الْخَٰلِقُونَ ﴿۵۹﴾

آيا وينئ تاسې (چې خبر راكړئ له) هغه اوبو څخه چې څڅوئ يې تاسې (پر رحمونو د ښځو خپلو كې)؟. آيا پيدا كوئ تاسې له دغه (مني نه بشر) كه يو مونږ پيدا كوونكي؟.

تفسير: يعنې د ميندو په رحم كې له نطفې څخه سړى څوك جوړوي؟، هلته ستاسې هيڅ ظاهري تصرّف نه چليږي، او د هيچا يو ښكاره لاس نه وررسي، او نه څه تصرّف په كې كولى شئ، بيا نو پرته له مونږ څخه بل څوك دي چې له هغه يو څاڅكي اوبو څخه هسې ښكلى شكل جوړوي؟ او بيا په هغې كې سا او روح اچوي.

نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ

مونږ مقدّر کړی مو دی په منځ ستاسې کې (ای مخلوقاتو) مړک.

تفسیر: یعنې ژوند ښښل، وژل او نورې ګردې چارې ځمونږ په قدرت او قبضه کې دي، کله چې د وجود او د عدم واک او اختیار ځمونږ په لاس کې دی؛ نو وروسته له مړینې ژوندي کول هم مونږ ته کوم ګران کار نه دی.

وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ﴿۶۰﴾ عَلَىٰ أَن نُّبَدِّلَ أَمْثَالَكُمْ وَنُنشِئَكُمْ فِي مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿۶۱﴾

او نه یو مونږ عاجز چې څوک تېرې راباندې وکړي. له دې نه چې پیدا کړو بدل ستاسې (نور خلق) په شان ستاسې، او مونږ راپورته پیدا کړو تاسې په هغو (صورتونو سره) چې تاسې به علم نه پرې لرئ.

تفسیر: شاه صاحب (رحمه الله) لیکی: «یعنې تاسې به بلې نړۍ (جهان) ته بیایو، او ستاسې په ځای به نور خلق ودروو».

وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْأَةَ الْأُولَىٰ فَلَوْلَا تَذَكَّرُونَ ﴿۶۲﴾

او خامخا په تحقیق پوهیدلي یئ تاسې په پیدا کولو ړومبنیو باندې؛ نو ولې نه یادوئ پند نه اخلئ (د دغه الله تعالی په قدرت، او یقین نه کوئ په بیا پیدا کولو باندې)؟.

تفسیر: یعنې همغه ړومبنی پیدایش په یاد کړئ، او د هغه له مخې او اټکله دا دویم پیدایش هم قیاس کړئ !.

أَفَرَأَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ﴿۶۳﴾ ءَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلزَّٰرِعُونَ ﴿۶۴﴾

آیا پس وینئ (چې خبر راکړئ ماته) هغه چې کرئ یې تاسې. آیا تاسې زرغونوئ هغه که مونږ یو زرغونوونکي؟.

تفسیر: یعنې په ښکاره ډول سره خو تاسې تخم شیندئ، ولې دننه په ځمکه کې د هغه پالل او د هغه زرغونول، او له هغه څخه یو تک شین کښت جوړول، او بیا هغه ګټور ګرځول د چا کار دی؟ د دې په نسبت خو تاسې ظاهري او سطحي دعوی هم نشئ کولی، چې هغه ځمونږ تیار کړی شوی شی دی.

لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَٰهُ حُطَٰمًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُونَ ﴿۶۵﴾ إِنَّا لَمُغْرَمُونَ ﴿۶۶﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴿۶۷﴾

که اراده وفرمایو مونږ؛ نو خامخا وبه ګرځوو مونږ هغه (کښت لره) وچ وابنه ذره ذره، نو وبه ګرځئ تاسې تعجّب کوونکي او ویونکي د دې خبرې. بېشکه مونږ خامخا تاوان کړي یو (په زراعت خپل کې). بلکه مونږ محروم بې برخې کړی شوي یو (له رزق نه).

تفسیر: یعنې د کښت له پیدا کولو څخه وروسته د هغه محفوظ او باقي پاتې کېدل هم ځمونږ کار دی، که مونږ وغواړو؛ نو کوم یو آفت ورولېږو، چې په هغه سره ګرد کښت خاورې ایرې شي، او بیا به تاسې خپل سر پخپلو لاسونو نیولی ژاړئ، او پخپلو منځونو کې به سره ناست راز راز خبرې به جوړوئ !، او وایئ به چې خانه ! تاته خو سږ کال ډېر لوی تاوان او جنجال در رسېدلی دی، که رښتیا پوښتنه کوئ؛ نو زه بالکل خوار او فقیر او تش لاس پاتې شوی یم.

أَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ ﴿٦٨﴾ ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ الْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ الْمُنزِلُونَ ﴿٦٩﴾

آيا پس وينئ (چې خبر راکړئ) تاسې اوبه هغه چې څښئ يې تاسې (او ژوند پرې ترلی دی)؟ آيا تاسو نازلې کړي دي هغه لطيفې خوږې (اوبه) له سپينو ورېځو څخه که مونږ نازلوونکي راښکته کوونکي يو (د هغو اوبو؟ بلکه ته يې ای الله !).

تفسير: يعنې باران هم ځمونږ په حکم سره وريږي، او د ځمکې په خزانو کې هغه اوبه هم مونږ ټولوو، آيا تاسې څه زور او قوّت لرئ چې اوبه جوړې کړئ؟ يا يې په زور او زاړه له ورېځو څخه ووروئ؟.

لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنَٰهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ ﴿٧٠﴾

که اراده فرمايو مونږ؛ نو وبه ګرځوو دا (اوبه) تروې ترخې؛ نو ولې شُکر نه وباسئ (تاسې په دغو نعماوو)؟.

تفسير: يعنې که مونږ اراده وفرمايو؛ نو خوږې اوبه ترخې کوو، چې هيڅوک يې ونشي څښلی، او نه کښت ته په کار ورشي، بيا هم تاسې ځما احسان نه منئ، چې مونږ تاسې ته خوږې اوبه اوروو، او د خوږو اوبو لويې خزانې تاسې ته ساتو، او له هغو څخه تاسې ته راز راز ګټې رسوو.

أَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي تُورُونَ ﴿٧١﴾ ءَأَنتُمْ أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَآ أَمْ نَحْنُ الْمُنشِـُٔونَ ﴿٧٢﴾

آيا پس وينئ (چې خبر راکړئ) تاسې د اور هغه نه چې بلوئ يې تاسې (له هر راز محروقاتو نه). آيا تاسې پيدا کړې ده ونه د دې (اور) او که مونږ پيدا کوونکي يو (د هغې ونې او د ټولو محروقاتو؟ بلکه ته يې ای الله !).

تفسير: په عربو کې داسې څو تکې شنې ونې دي، چې د هغو د دوو لرګيو له سولولو څخه اور پيدا کيږي، لکه چې په هندوستان کې د بانس د ونې له سولولو څخه اور پيدا کيږي، پخوا له دې نه د (يس) د سورت په آخر کې د دې په نسبت څه بيان ليکلی شوی دی، يعنې په دې ونو کې اور چا ايښی دی؟ تاسې که ما؟ (بلکه تا ايښی دی ای الله !).

نَحْنُ جَعَلْنَٰهَا تَذْكِرَةً

مونږ ګرځولی مو دی دغه (دنيوي اور) تذکره يادول (د دوزخ).

تفسير: يعنې دې اورته وګورئ او د دوزخ اور ياد کړئ، دا هم د هغه اور يوه برخه او ادنی نمونه ده، او فکر وهونکي لره دا خبره ور په يادېږي، هغه الله چې له تکې شنې ونې څخه تک سور اور راوباسي، هغه په يقين سره کولی شي او قادر دی چې مړي هم ژوندي کړي.

وَمَتَٰعًا لِّلْمُقْوِينَ ﴿٧٣﴾

او (ګرځولی دی مونږ دا اور نفعمن او) په کار راتللو ته لپاره د مسافرانو محتاجانو بې وځلو.

تفسير: يعنې د بيديا او ميدان اوسېدونکيو او پردېسانو ته اور ډېر په کاريږی، په تېره بيا د ژمي او سړو په وخت کې، او پرته له دې څخه د نورو هم ډېر په ښه ورځي، او د مدنيّت ډېر امور پرې مربوط دي.

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾

نو وکړه نسبت د پاکۍ نامه د رب خپل ته چې له ځکردو ځنې لوی دی (او تل شاکر اوسه په دغو نعماوو يې).

تفسير: يعنې هغه ذات چې داسې مختلف شيان او د کار وړ ځيزونه يې پيدا کړي دي، او خاص پخپل فضل او احسان يې مونږ منتفع ځکړځولي يو، د هغه شکر اداء کول په کار دي، او د کافرانو او منکرانو د هغو چتې او اپلتو خبرو په مقابل کې چې هغه الله تعالى ته يې نسبت کوي؛ د هغه د مبارک نامه پاکي بيانول پکار دي، د تعجّب ځای دی چې دا خلق سره د داسې باهره وو آياتونو او نښو د ليدلو بيا هم د هغه الله تعالى په قدرت او وحدانيت باندې هسې چې ښايي نه پوهيږي.

فَلَا أُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ النُّجُومِ ﴿٧٥﴾

نو قسم خورم زه په ځايونو د پرېوتلو د ستوريو باندې.

تفسير: او دويمه معنى يې دا ده چې: قسم خورم د آيتونو په راښکته کېدلو د پيغمبرانو په زړونو باندې، يا د قرآني آيتونو په راښکته کېدلو باندې له اسمانه پر ځمکې باندې چې لږ لږ او ورو ورو رانازليږي.

وَإِنَّهُ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ ﴿٧٦﴾ إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ ﴿٧٧﴾ فِي كِتَابٍ مَّكْنُونٍ ﴿٧٨﴾ لَّا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ ﴿٧٩﴾

او بېشکه دا قسم خامخا قسم دی که پوهېږئ تاسې عظيم ډېر لوی. چې بېشکه دا (کتاب لوستی شوی په تا باندې) خامخا قرآنکريم عزت والا دی. (چې ليکلی شوی دی) په کتاب پټ ساتلي شوي (لوح محفوظ) کې. چې نه مسه کوي ده لره او نه دې يې مسه کوي مګر هغه چې پاک کړی شوي وي (يعنې پاکان).

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله) ليکی: «يعنې پرښتې په دې پاک کتاب باندې لاس لګوي، هغه کتاب همدا ليکلی شوی کتاب دی، د پرښتو په لاسونو سره يا په لوح محفوظ کې»، ځينې د ﴿لَّا يَمَسُّهُ﴾ ضمير قرآن ته اړوي، يعنې دې پاک قرآن ته لاس نه وروړي مګر خو پاک سړي، يعنې هغه کسان چې زړونه يې صاف او اخلاق يې پاک وي، د همداسې سړيو فکرونه او عقلونه د دې لوی کتاب په علومو او حقائقو، معارفو او آيتونو باندې هم په ښه ډول سره رسيږي، يا نه مسه کوي دا قرآن مګر خو پاک خلق، يعنې بې اودسه هغه ته لاس نه وروړي، لکه چې د نبوي احاديثو څخه هم دا خبره ثابته شوې ده، نو په دې تقدير سره د ﴿لَّا يَمَسُّهُ﴾ نفي به د نهي لپاره وي.

تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٨٠﴾

(هغه قرآن چې ټوټه ټوټه) نازل کړی شوی دی له (طرفه د پالونکي) رب د عالميانو.

تفسير: يعنې دا کومې کوډې (جادو) او ټوکې نه دي، او نه د کاهنانو چتې او اپلتې خبرې دي، او نه د شاعرانو توهّمات او مبالغات او هسکې استعارې دي، بلکه يو لوی، مقدّس، معزّز، پاک او اسماني کتاب دی، چې د رب العالمين له لوري د ټول عالم او ځکردو نړۍ والو (اهل جهان) د لار ښوونې لپاره راښکته شوی دی، هغه الله تعالى ځمونږ پاک الله دی چې د لمر، سپوږمۍ او ستوريو ډېر کلک، محکم، عجيب، غريب او ښکلی ترتيب او نظام يې قائم کړی دی، او هغه ځکرد سماوي اجرام د يوه مرتّب قانون اومنظم اصولو سره د خپلو ورځنيو ختلو او پرېوتلو او نورو تأثيراتو او اغېزو سره د خپل عظمت، قدرت، قوّت، وحدانيت، تصرف او د عظيم الشأن اقتدار مظاهرې او په زړه پورې نندارې راښيي.

أَفَبِهٰذَا الْحَدِيثِ أَنتُم مُّدْهِنُونَ ﴿٨١﴾ وَتَجْعَلُونَ رِزْقَكُمْ أَنَّكُمْ تُكَذِّبُونَ ﴿٨٢﴾

آيا په دې خبرې (د قرآن) باندې تاسې سپک کوونکي يئ (دروغ يې ګڼئ)؟. او ګرځوئ تاسې روزي برخه خپله (له قرآنه دا خبره) چې تاسې دروغ ګڼونکي يئ (دغه قرآن لره).

تفسير: يعنې آيا دا هسې دولت دی چې له هغه ځنې په ګټه اخيستلو کې تاسې سُستي او کاهلي وکړئ، او خپله برخه همدومره وګڼئ چې د الله تعالی هغه راښوولي حقائق دروغ ثابتوئ؟ لکه چې د باران د ليدلو په وخت کې وايي چې هغه ستوری هغه برج ته راغلی؛ نو ځکه ورښت وشو، ګواکې دوی د الله په قدرت قائل نه دي، او په هسې وينا سره دوی د رحمت د دې باران قدر هم نه کوي، چې د پاک قرآن په شکل کې رانازل شوی دی، او دا ويل چې د الله تعالی له خوا نه دی لېږلی شوی؛ سخته بدبختي، حرمان او بد نصيبي ده، آيا د يوه نعمت شکر ګزاري همداسې کېدی شي، چې هغه دروغ وبللی شي؟.

فَلَوْلَا إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ ﴿٨٣﴾ وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ ﴿٨٤﴾ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ ﴿٨٥﴾
فَلَوْلَا إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ ﴿٨٦﴾ تَرْجِعُونَهَا إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٨٧﴾

نو ولې په هغه وخت کې چې ورسيږي (روح د سړي) ستوني ته. او (حال دا وي چې) تاسې په دغه وخت حاضر اوږدونکي نظر کوونکي يئ هغه ته. او مونږ ډېر نژدې يو هغه ته (ځمونږ پرښتې) له تاسې څخه مګر نه وينئ، او نه پوهېږئ تاسې. پس ولې که يئ تاسې چې جزا نه درکوله کيږي او نه ژوندی کيږئ؛ نو راوګرځوئ تاسې دا (روح) که چېرې يئ تاسې رښتينې (په دې ګمان خپل کې چې جزاء نشته).

تفسير: يعنې په داسې بېفکری او بې خوفی سره د پاک الله تعالی خبرې دروغ ګڼئ، ګواکې تاسې د چا په حکم او واک کې نه يئ، يا هيڅ نه مرئ، او له الله تعالی سره نه مخامخ کېږئ، ښه ! څه وخت چې ستاسې د کوم عزيز او محبوب سا په ختلو کې وي، او سا يې په ستوني کې بنده شي، او د ځنکدن ربړونه پرې تيريږي، که تاسې له هغه سره نژدې کېئ او د ده هغه بې وځلي او بېچارګي پرېشاني او سرګرداني وګورئ، له بلې خوا پرښتې له تاسې څخه هغه ته ډېرې نژدې دي، چې تاسې يې نه وينئ، که ستاسې واک او اختيار د بل چا په لاس کې نه دی؛ نو په هغه وخت کې تاسې د خپل هغه محبوب او مين سا او روح ولې نه شئ ساتلی؟ او د څه لپاره هغه مين او محبوب مو له تاسې څخه په داسې حال کې چې ستاسې زړونه خوږيږي، او اوښکې مو بهيږي، بېلتون کوي، او تاسې په خپل فراق او بيلتون ژړوي.

فَأَمَّا إِن كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٨٨﴾ فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّتُ نَعِيمٍ ﴿٨٩﴾ وَأَمَّا إِن كَانَ مِنْ أَصْحَابِ الْيَمِينِ ﴿٩٠﴾
فَسَلَامٌ لَّكَ مِنْ أَصْحَابِ الْيَمِينِ ﴿٩١﴾

نو که چېرې وي (دغه مړی) له مقرّبينو څخه (الله ته). نو (شته ده لره) راحت هوسايي (آرام) او ښه رزق او جنّت ډک له نعمتونو څخه. او که چېرې وي (دا مړی) له يارانو ملګرو د ښي لاس. نو سلامتيا ده تا لره له يارانو ملګريو د ښي لاس څخه.

تفسير: يعنې تاسې د يوې شېبې لپاره هم هغه نه شئ ساتلی، او هغه خپل ځای ته هرومرو رسېدونکی دی، که هغه مړی له مقرّبينو څخه وي؛ نو اعلی درجه روحاني او جسماني، د هوسايي راحت عيش او چرچو سامانونو ته رسيږي، او په ښي لاسه ډله (اصحاب اليمين) کې شاميږي، او هيڅ يوه وېره او ربړونه ورته نه پاتې کيږي، شاه صاحب (رحمه الله) ليکي:

«يعنې د هغوی له لوري ډاډه (خاطر جمع) اوسه !»، يا دا مطلب چې د (أصحاب اليمين) له طرفه هغوی ته سلامونه رسيږي، يا هغه ته ويل کيږي: تا لره په راتلونکي وخت کې سلامتي او هوسايي (آرام) ده، او ته په اصحاب يمين کې شامل او ګډه يې.

وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُكَذِّبِينَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٩٢﴾ فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيمٍ ﴿٩٣﴾ وَتَصْلِيَةُ جَحِيمٍ ﴿٩٤﴾

او که چېرې وي (دغه مړی) له دروغ ويونکيو ګمراهانو څخه. نو مېلمستيا ده (ده ته) له سوځوونکيو اوبو څخه. او ننه ايستل دي په اور (د دوزخ) کې.

تفسير: يعنې د هغه پای او انجام هسې وي چې پخوا له مړ کېدلو څخه هغه ته د هغه راتلونکی حال احوال اوراوه کيږي.

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ حَقُّ ٱلْيَقِينِ ﴿٩٥﴾

بېشکه دا خبره (چې ذکر شوه په شان د دې درې صنفو کې) خامخا همدا حقه يقيني ده.

تفسير: يعنې ستاسې له تکذيب څخه هيڅ شی کېدونکي نه دي، هر هغه شيان چې د مؤمنانو او مجرمانو په نسبت خبر ورکړی شوی دی؛ هغه ګرد صحيح او يقيني دي، او هم هغسې کېدونکي دي.

فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴿٩٦﴾

پس وکړه نسبت د پاکی نامه د رب خپل ته چې له ګردو (ټولو) څخه ډېر لوی دی.

تفسير: يعنې په تسبيح او تحميد کې مشغول اوسئ !، چې دا د هغه ځای لپاره لويه تياري ده، او په همدې ښه چاره کې بوخت اوسئ !، او د مکذبينو د زړه خوږونکيو خبرو څخه زيات مه خپه کېږئ !.

تمّت سورة الواقعة، ولله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الحَدِيدِ

«د (الحديد) سورت مدني دی، (۲۹) آيتونه او (۴) رکوع لري، په تلاوت کې (۵۷) او په نزول کې (۹۴) سورت دی، د (الزلزال) له سورت څخه وروسته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان ډېر رحم کوونکی دی.

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

نسبت د پاکۍ کوي الله ته هغه چې په اسمانونو او په ځمکه کې دي (سره له اسمانونو او ځمکو).

تفسير: يعنې د حال يا د قال په ژبه په دواړو سره د الله تعالى حمد، ثناء، او تسبيح وايي.

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١﴾ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ يُحْيِي وَيُمِيتُ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢﴾

او همدغه (الله) ښه غالب قوي ښه حکمت والا دی. خاص دغه (الله) لره ده باچايي د اسمانونو او (باچايي) د ځمکې، (همدغه الله) ژوندي کول کوي او مړه کول کوي، او همدغه (الله) په هر شي باندې ښه قادر دی (چې ځينې يې همدغه ژوندي کول او مړه کول دي).

تفسير: يعنې په اسمان او ځمکه يا په دواړو کې يا هر چېرې د الله تعالى احکام چليږي، او هر چېرې او هر کله واک او اختيار لري، د ايجاد او اعدام او د ګردو چارو ملونې او قبضه د ده په لاس کې ده، هيڅ يو قوّت او طاقت د هغه د تکويني قدرت او تصرّف مخه نشي نيولی.

هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ

همدغه (الله) اول دی (له هر شي څخه چې مخکې تر څوک نشته)، او آخر دی چې وروسته تر څوک نشته.

تفسير: کله چې هيڅوک نه وو، الله جل جلاله موجود وو، او کله چې هر څه فنا شي؛ الله جل جلاله به موجود وي.

وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٣﴾

او ظاهر دی، بره تر څوک نشته، او باطن دی (دنيا کښې نه ليدل کيږي) د ده نه پناه څوک نشته، او همدغه (الله) دی په هر شي باندې ښه عالم ښه پوهيدونکی.

تفسير: د هر شي وجود او ظهور د هغه الله تعالى له ايجاد څخه دی، نو ځکه د الله تعالى وجود که ظاهر او باهر نه وي؛ نو د بل چا به وي؟ له عرشه نيولې تر فرش پورې، او له ذرې څخه اخيستې تر لمر او نورو لويو کرو پورې، هر يو شی د هغه په وجود او شته والي باندې روښان دليلونه دي، او بېلې بېلې شاهدۍ لولي، خو سره له دې د هغه ذات

او اصلي حقائقو او صفاتو ته هغسې چې ښايي عقل، پوهه او ادراک نه ور رسيږي، او د ده د هيڅ يوه صفت احاطه کول هم امکان نه لري، او نه پخپل قياس او ادراک سره څوک د هغه د څنګوالي (کيفيت) بيان کړی شي، نو ځکه ويلی شو چې له هغه څخه زيات پټ او باطن بل څوک نشته، په هر حال سره هغه الله تعالی د باندې هم دی او دننه هم دی، ظاهر هم شته او په باطن کې هم دی، او په هر راز احوالو باندې که پټ دی يا ښکاره؛ ښه خبردار او ډېر پوه دی، ظاهر د غالب په معنی هسې چې د هغه له پاسه هيڅ يو قوت نشته، باطن داسې چې له هغه څنې پرته (علاوه) هسې کوم ځای موقع به نه وي چې څوک به هلته تـرې پټ شي، يا يې له علمه او پوهې څخه کوم شی لرې او پټ وي، د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په حديث کې راغلي دي: «وأنت الظاهر فليس فوقك شيء، وأنت الباطن فليس دونك شيء».

هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۖ

او دغه (الله) هغه ذات دی چې پيدا کړي يې دي اسمانونه او ځمکه په مقدار د شپږو ورځو کې (له ورځو د دنيا نه) بيا اوچت شو په عرش باندې (لکه چې له شانه د الوهيت د ده سره مناسبه وه).

يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا

معلوم دي (الله ته) هغه څه چې ننوځي په ځمکه کې (لکه مړي او باران) او هر هغه څه چې راووځي له دغه ځمکې نه.

تفسير: لکه کښت او ترکودې (نباتات) چې له ځمکې څخه راوځي، د دې بيان د (سبأ) په سورت کې پخوا له دې تېر شوی دی.

وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۖ

او (معلوم دي الله ته) هر هغه چې نازليږي له اسمانه (لکه رحمت او عذاب)، او هر هغه چې پورته خيژي په دغه (اسمان) کې (لکه نېک عملونه او بد عملونه).

تفسير: يعنې له اسمانه پرښتې حکمونه، د قضاء او قدر فيصلې، وريا (باران) او نور راښکته کيږي، او د بندګانو اعمال او د الله أكرم شأنُه وأعظم برهانُه پرښتې او نور پورته کيږي.

وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ۝٤

او دغه (الله) له تاسې سره دی (په علم او قدرت سره) هر چېرې چې يئ تاسې، او الله پر هر هغه څه چې کوئ يې تاسې ښه ليدونکی دی (نو جزاء به پرې درکړي).

تفسير: يعنې هيڅکله له تاسې څخه غائب نه دی، بلکه هر چېرې او په هر حال کې چې تاسې يئ؛ هغه ګرد دی ښه پېژني، او ټولې ښکاره او پټې خبرې ښه اوري، او ستاسې اعمال او نور ګرد شيان ښه وينې.

لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ۝٥

خاص هغه (الله) لره ده باچايي سلطنت د اسمانونو او د ځمکې، ا وخاص الله لره ګرځول کيږي ټول کارونه.

تفسير: يعني منكران د الله تعالى له باچايي او قلمرو څخه د باندې وتلى نشي، په ګردو اسمانونو او ځمکه کې يواځې د هغه وحده لا شريک له حکومت دى، او په پاى کې د ګردو کارونو فيصله د ده له لورې کيږي.

يُولِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۖ

ننه باسي (الله) شپه په ورځې کې او ننه باسي (الله) ورځ په شپې کې.

تفسير: يعني الله تعالى کله ورځ لنډوي او شپه اوږدوي (په قوس او جدي کې)، او کله په عکس د دې شپې لنډوي او ورځې اوږدوي (لکه په جوزا او سرطان کې).

وَهُوَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٦﴾

او دغه (الله) ښه عالم دى په پټو خبرو نياتو عقائدو د سينو زړونو باندې هم.

تفسير: يعني په زړونو کې هغه نيات او ارادې يا هغه خطرې او وسوسې چې پيدا کيږي، په هغو ګردو باندې هغه ښه پوهيږي، او هيڅ شى د ده له پوهې څخه د باندې نه دي.

آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَأَنْفِقُوا مِمَّا جَعَلَكُمْ مُسْتَخْلَفِينَ فِيهِ ۖ

ايمان راوړئ تاسې (او په ايمان همېشه اوسئ) په الله او په رسول د دغه (الله) باندې، او لګوئ (په لاره د الله کې) له هغو (اموالو) څخه چې ګرځولي يئ تاسو (الله) خليفګان (د پخوانيو) په هغو (اموالو) کې.

تفسير: يعني هغه مال او شته چې ستاسې په لاسونو کې شته، د هغو ګردو مالک او څښتن پاک پروردګار دى، او تاسې يواځې د يوه امانتدار او خزانه دار په شان يئ، نو ځکه په هر ځاى او هر چا باندې چې هغه الله تعالى تاسې ته د هغه د صرفولو او لګولو په نسبت امر وکړي؛ په هم هغه ځاى کې يې تاسې صرف کړئ، او دا خبره مو هم په ياد وي چې پخوا له دې څخه دا مال د نورو په لاسونو کې وو، خو اوس د هغوى په ځاى تاسې يئ، او ښکاره ده چې تاسې به هم ځئ.

فَالَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَأَنْفَقُوا لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿٧﴾

پس هغه کسان چې ايمان يې راوړى دى له تاسې، او لګولي يې دي (اموال خپل په لاره د الله کې) هغوى لره دى اجر ثواب ډېر لوى (په جنّت کې، نو تاسې ته هم نفع رسوي ايمان او خرڅول د اموالو د تاسې).

تفسير: نو ځکه ضروري ده په هغو کسانو کې چې دا خصلت او صفت موجود نه وي، ښايي چې هغه پيدا کړي !، او په هغو کې چې شته، ښايي چې په هغه باندې مستقيم پاتې وي، او د ايمان په مقتضى باندې تګ او عمل وکړي !.

وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ لِتُؤْمِنُوا بِرَبِّكُمْ وَقَدْ أَخَذَ مِيثَاقَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿٨﴾

او څه مانع عذر دى تاسې لره (بلکه هيڅ مانع نشته) چې ايمان نه راوړئ په الله او رسول د دغه (الله)، حال دا چې (رسول الله) رابولي تاسې چې ايمان راوړئ په رب خپل او په تحقيق اخيستې ده (الله) وعده کلکه د تاسې که چېرې يئ تاسې ايمان راوړونکي (نو ايمان ولې نه راوړئ؟).

تفسير: يعني په الله تعالى باندې له ايمان راوړلو څخه يا د يقين او معرفت په لاړې باندې له تللو ځني کوم شيان ستاسې مخه نيسي؟ او په داسې چارو او معاملو کې لټې سستي او تقاعد ولې وکړ شي، الله تعالى او د هغه پاک رسول تاسې د کوم پردي او غير معقول څيز په خوا نه رابولي، بلکه تاسې ته ستاسې د حقيقي رب او پالونکي په لور بلنه کوي، چې د هغه اعتقاد ستاسې په اصلي فطرت کې په وديعت ايښود شوی دی، او تاسې د هغه د ربوبيت اقرار پخوا له دې څخه چې دنيا ته راشئ؛ کړی دی؟، لکه چې تر نن پورې د هغه اقرار اثر او اغېزه څه نه څه د بني آدمانو په زړونو کې موندله کيږي، بيا په دلائلو، براهينو او د رسولانو په ارسال او د اسماني کتابونو په لېږلو سره د هغه ازلي عهد او پيمان تجديد کيږي، او پخوانيو انبياوو له خپلو امتيانو ځني داسې وعده او پيمان هم اخيستی وو چې د خاتم الأنبياء محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم اتباع دې هرومرو وکړي !، او له تاسې څخه ډېر سړي هسې هم دي چې پخپله د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په مبارک لاس باندې د سمعې، طاعت، انفاق في سبيل الله او نورو ايماني امورو باندې د ټينګوالي او پابندۍ کلک عهد او ټرون هم کړی دی، نو وروسته له دې مبادیو څخه اوس څنګه کېدی شي، هغه څوک چې د منلو اراده لري؛ هغه يې ونه مني، او چا چې منلی دی له هغه څخه غاړه وغړوي، او ترې انحراف وکړي؟.

هُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ عَلٰى عَبْدِهٖٓ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ بِكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝

دغه (الله) هغه ذات دی چې نازلوي پر بنده خپل باندې دلائل ښکاره (لپاره د دې) چې وباسي تاسې له تيارو (د کفر) څخه رڼا (د ايمان) ته، او بېشکه الله په تاسې باندې خامخا ښه مهربان ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: يعني قرآن يې را نازل کړ، او د صداقت لاړې يې دروښودې، چې د هغو په وسيله تاسې د کُفر او جهل له تيارو څخه ووځئ، او د ايمان او علم او عمل رڼا ته راشئ، او دا د پاک الله لوی شفقت او مهرباني ده، که سختي يې کولې؛ نو تاسو به يې په همدې تيارو کې پرې ښودئ، تر څو په کې مړه شئ، يا به يې د ايمان او يقين له راوړلو څخه وروسته ستاسې خطاوې او ګناهونه نه بښل.

وَمَا لَكُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ

او څه مانع عذر دی تاسې لره چې نه نفقه کوئ نه لګوئ (مال خپل) په لاره د الله کې، او خاص الله لره دی ميراث د اسمانونو او د ځمکې.

تفسير: يعني (مجازي) مالکان فنا کيږي، او ملک هغه حقيقي مالک ته چې الله تعالى دی پاتې کيږي، که نه هسې خو د تل لپاره هغه د ده مال وو، نو بيا د ده په مال کې سم د ده له امر سره خرڅ کول او لګول ولې در نه ښکاري؟، که په خپلې خوښې او واک سره يې نه ورکوئ؛ نو بيا واک هم هغه ته رسېدونکی دی، نو د بندګۍ اقتضاء او غوښتنه همدا ده چې په خوښۍ سره هغه وروړاندې کړئ !، او د هغه په لاره کې يې خرڅ کړئ !، او د فقر، فاقې، افلاس او تنګۍ څخه ونه ويرېږئ !، ځکه چې د ځمکې او د اسمانونو د خزانو او د شتو مالک او څښتن پاک پروردګار دی، نو آيا په دې لاړې کې به پخپلې خوښې سره خرڅ کوونکي او لګوونکي وږي پاتې کيږی !؟.

لَا يَسْتَوِيْ مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ

نه دي برابر له تاسې څخه هغه چې لګولی يې دی (مال خپل په لاره د الله کې) پخوا له فتحې (د حديبيې يا د مکې) څخه.

تفسير: ځينو له فتحې څخه د حُديبيې صلحه روغه مراد کړې ده، او له ځينو روايتونو څخه د هغه تأييد هم کيږي.

وَقَاتَلَ ۚ أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِينَ أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا ۚ وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ ۚ

او بيا يې جنګ کړی (د کافرانو سره)، دا (لګوونکي د مالونو خپلو په لاره د الله کې او جنګېدونکي پخوا له فتحې د حُديبيې يا د مکې نه) ډېر لوي دي له جهته د درجې مرتبې له هغو کسانو چې لګوي مال خپل په لاره د الله کې وروسته (له فتح د مکې نه) او جنګيږي (لپاره د اعلاء کلمة الله)، او له دواړو طائفو سره وعده کړې ده الله د نېکۍ (جنّت).

تفسير: يعنې که هسې د الله تعالى په لاره کې هر مهال هر شى خرڅ کړل شي او جهاد وکړ شي؛ هغه ښه دى، او الله تعالى به د هغه ډېر اجر په دنيا او آخرت کې ورکوي، ليکن هغه مقدور لرونکي چې له خپلو شتو څخه يې پخوا د حُديبيې له روغې يا د مکې له برې فتحې څخه خرڅ کړي دي، او د جهاد شرف يې ګټلى دى؛ هغوى ډېرې لويې درجې موندلي دي، او وروستني مسلمانان د هغوى په درجو پورې نشي رسېدلى، ځکه چې په هغه وخت کې د حق منونکي او په هغه باندې سر قربانوونکي سړي ډېر لږ وو، او ګرده دنيا له کافرانو او باطلو خوښوونکيو څخه ډکه وه، په هغه وخت کې اسلام جاني او مالي قربانى ته ډېره اړتيا او احتياج درلود، او مجاهدينو ته په ښکاره ډول د اسبابو، اموالو، غنائمو، وسلو، خوړو او نورو ضرورياتو هيلې او توقّعات ډېر لږ وو، په داسې حالاتو کې ايمان راوړل او د الله او د هغه د رسول په لاره کې د خپلو ځانونو او مالونو او شتو قربانول د دنيا د لويو اولوالعزمانو او د هغو لويو سړيو کار دى، چې د هغوى ثابت قدمي او ټينګتيا له غرونو څخه هم ټينګه او کلکه وي، فرضي الله عنهم ورضوا عنه.

وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١٠﴾

او الله په هغو کارونو باندې چې کوئ يې تاسې ښه خبردار دى (نو جزاء به پرې درکړي).

تفسير: يعنې الله تعالى له هر شي څخه خبر دى، او پوهيږي چې د چا عمل څه درجه لري؟ او د هغه د اخلاص وزن او تول څومره دى؟ نو له خپلې پوهې سره سم له هر يوه سره به ښه ښه معامله کوي.

مَّن ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ وَلَهُ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴿١١﴾

څوک دى ذات هغه چې قرض ورکوي الله لره په قرض ورکولو نېکو سره، نو بيا به (الله) دوچنده کړي (هغه قرض) ده لره، او خاص ده ته اجر ثواب دى نېک (د عزّت).

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «له پور څخه دا مطلب دى چې په دې وخت په جهاد باندې تاسې خپل مالونه او شته ولګوئ، بيا همدا تاسې د ډېرو شتو خاوندان کېږئ، او په آخرت کې لويې مرتبې او مرادونه مومئ، د دوه ګونې معنى هم همدا ده، که نه د نوکر او بادار په منځ کې هسې ګټې وټې نشته، که چاته څه شى ورکوي مختيار دى، او که نه يې ورکوي؛ هم همدى مختيار او واکدار دى».

يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ يَسْعَىٰ نُورُهُم بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِم

(ياده کړه اى محمده !) هغه ورځ (د قيامت) چې وينې ته مؤمنان سړي او مؤمناتې ښځې چې ځغلي به رڼا د دوى مخکښې له دوى څخه او له ښي خوا د دوى څخه.

تفسير: د حشر په ميدان کې کله چې د (صراط) په پل تيريږي، پس ډېره سخته توره تياره وي، نو په دې وخت کې له هر چا سره د هغه د ايمان او ښه عمل رڼا وي، ښايي چې د ايمان رڼا چې ځای يې زړه وي، او د ښو عملونو به په ښې خوا کې وي، ځکه چې ښې چارې ګردې په ښي خوا کې سره ټولیږي، د هر چا ايمان او عمل په هره درجه اندازه او مېچ چې وي؛ په هغه مېچ او اندازه سره به د هغه رڼا او روښانتيا هم وي.

بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝

(او وبه ويل شي دوی ته چې) زېرى د تاسې نن ورځ دى (ننوتل په) جنت چې بهيږي له لاندې (د مانيو او ونو) د هغو (څلور قسمه) ويالې، تل به وي دوى په هغو کې، دغه دى هم دغه برى موندل ډېر لوى.

تفسير: ځکه چې جنّت د الله تعالى د خوښۍ ځای دى، هغه کسان چې جنّت ته رسيږي؛ ګواکې د هغو ګردو مرادونه وررسېدلي وي.

يَوْمَ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ ۚ قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَاۗءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ۭ فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ بَابٌ ۭ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ ۝

(ياده کړه اى محمده ! هغه) ورځ چې وايي به منافقان سړي او منافقانې ښځې هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړى دى (داسې چې): وګورئ مونږ ته (انتظار وکړئ) چې رڼا واخلو له رڼا ستاسې، نو وبه ويل شي دوى ته (تمسخرًا): چې وګرځئ شاوو خپلو ته پس ولټوئ رڼا، پس وبه واهه شي په منځ د دغو (منافقانو او مؤمنانو) کې يو دېوال چې هغه لره به دروازه وي، دننه طرف د هغې (دروازې کې به چې د جنّت په جانب دى) رحمت وي (مؤمنانو لره)، او د باندې طرف ته د هغه (چې جانب د منافقانو دى) له طرفه د هغه ځخه به عذاب وي.

تفسير: يعنې د مؤمنانو او منافقانو په منځ کې به يو لوى دېوال ودرول کيږي، چې په هغه کې به يو ور وي، له دې وره به مؤمنان د جنّت په لورې درومي، او د منافقانو له سترګو ځخه به پټيږي، د وره په منځ کې د جنّت وړمې او ښې نندارې له لرې بريښي، او له وره د باندې به د الله تعالى د عذاب نښې او د هغه ويروونکې اغيزې او منظرې وي.

يُنَادُوْنَهُمْ اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ۭ

غږ به وکړي (منافقان) دغو (مؤمنانو) ته: آيا نه وو مونږ له تاسې سره (ملګرې په دنيا کې).

تفسير: خبره داسې ده چې رسمي کافران به د (صراط) په پل باندې نه تيريږي، بلکه ړومبى به په دوزخ کې د هغه له وره ځخه په ټېل وهلو غورځولى شي، هو ! هغه کسان چې د کوم پيغمبر امّت او تابعدار وي، اعمّ له دې چې ښه وي يا خراب؛ هغه به د (صراط) له پله تيريږي، وروسته له دې ځخه چې د الله تعالى امر ورته وشي؛ په هغه پل باندې به وخيژي، په يوه سخته تياره کې به ګرد خلق ډوبيږي، په دې توره تياره کې به له ايمان لرونکيو سره يوه رڼا وي، چې دوه مخيز (منافقان) به هم غواړي چې د هغې رڼا په شاوخوا کې لاړ شي، خو څرنګه چې مؤمنان ډېر ګرځندي او تېز لکه الوتکې، موټر، بايسکل، اس او نور ځغلي؛ نو ځکه هغه رڼا له هغوى لرې تښتي، نو دلته به دا منافقان په شورماشور او نارو سورو باندې خولې پرانيځي، چغې به وي او وايي: لږ خو و درېږئ چې مونږ هم ستاسې په رڼا کې

درسره لاړ شو، مونږ په دا توره تياره کې لکه ړانده هسې تيريږو، مونږ مه پرېږدئ چې له تاسې څخه وروسته پاتې شو، لږ څه ډيل وکړئ او انتظار وکړئ، چې مونږ هم ستاسې له دې نا څخه لږ څه ګټور شو، آخر مونږ په دنيا کې له تاسې سره يو ځای اوسېدو، او په ښکاره ډول مونږ هم په مسلمانانو کې شمېرل کېدو، دوی به داسې ځواب اوري چې: بېرته وګرځئ !، او خپلو ځانونو ته هلته رڼا ولټوئ !، که يې ومومئ له هغه ځايه يې واخلئ !، د دې خبرې له اورېدلو څخه دوی بېرته ګرځي، په دې منځ کې به په هسې يوه توره تياره کې سره لويږي، چې په هيڅ يو شي باندې به د دې نظر ونه لګيږي، او هغه دېوال د دوی او د هغې رڼا په منځ کې راځي، مطلب يې دا چې دا رڼا په دنيا کې په ښو عملونو سره په لاس راتله، هغه ګټه او رڼا له تاسې څخه هلته پاتې شوې ده، بېرته دنيا ته وګرځئ چې دا هلته له تاسې څخه پاتې ده، يا به هغه ځای مراد وي چې د (صراط) په پل له ختلو څخه پخوا هلته رڼا او نور هر چا ته تقسيم کېده.

قَالُوا بَلَىٰ وَلَٰكِنَّكُمْ فَتَنتُمْ أَنفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ الْأَمَانِيُّ حَتَّىٰ جَاءَ أَمْرُ اللَّهِ وَغَرَّكُم بِاللَّهِ الْغَرُورُ ﴿۱۴﴾

نو وبه وايي (مؤمنان منافقانو ته چې) هو ! وئ (تاسې له مونږ سره) مګر تاسې په فتنه کې اچولی وو تاسو ځانونه خپل، او انتظار کاوه تاسې (په آفتونو او حوادثو مؤمنانو ته)، او شک به مو کاوه تاسې (په اسلام کې)، او غولولي وئ تېر ايستلي وئ تاسې ارزوګانو خپلو تر هغه پورې چې راغی امر حکم د الله (چې مرګ ستاسې دی)، او غولولي يئ تاسې په (کرم د) الله باندې غولوونکي (چې شيطان دی).

تفسير: يعنې بېشکه په ښکاره ډول په دنيا کې تاسې له مونږ سره وئ، او په ژبې سره مو د اسلام دعوی کوله، خو باطني حالت مو داسې وو چې په لذّاتو او شهواتو کې وئ، او د نفاق لاره مو غوره کړې وه، او خپل ځانونه مو غولولي او په هلاکت کې مو اچولي وو، او بيا مو توبه هم ونه کړه، بلکه تل به مو لارې ته کتل، او انتظار به مو ايستو، چې کله پر اسلام او مسلمانانو باندې کومه ټکه لويږي، او د دين په نسبت به په شکوکو او شبهاتو کې لويدلي وئ، تاسې په همدې فريب او غلونه کې داسې ګډل، چې وروسته له دې څخه به ستاسې ځنې هيڅ پوښتنه نه کيږي، او تاسې په داسې خيالونو کې مست او بېخبره پراته وئ چې د الله تعالی حکم او امر راورسېد، مرګی راغی او تاسې يې راګير کړئ، ګواکې هغه لوی غولوونکي (شيطان) تاسې له لارې څخه وويستئ، چې اوس هيڅ يوه د ژغورنې او د خلاصي لاره درپاتې نه ده.

فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنكُمْ فِدْيَةٌ وَلَا مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ مَأْوَاكُمُ النَّارُ ۖ هِيَ مَوْلَاكُمْ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿۱۵﴾

پس نن ورځ وا به نخيسته شي له تاسې څخه (ای منافقانو !) فديه معاوضه، او نه له هغو کسانو څخه چې کافران شوي وو، ځای د ورتلو ستاسې (او د دوی د ټولو) اور (د دوزخ) دی، همغه (اور لايق او) ملګری ستاسې دی، او بد ځای د ورتلو دی (دغه دوزخ).

تفسير: يعنې بالفرض که تاسې منافقان او ښکاره کافران څه معاوضه او فديه ورکړئ، او وغواړئ چې په هغه چل سره مو ځانونه وژغورئ؛ نو د داسې چارې د منظورۍ هيڅ يو صورت نشته، پس تاسې ګرد په همغه کور کې پاتې کيدونکي يئ، او همدا د دوزخ اور ستاسې د هستوګنې ځای دی، او همدا مو ملګری دی، د بل چا د رفاقت او ملګرتوب توقّع او هيله او اميد مه لرئ.

اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ ۙ

آيا نه دی راغلی وخت هغو کسانو ته چې ایمان يې راوړی دی (د دې) چې وويريږي زړونه د دوی (له جهته) د ذکر (وعید) د الله نه، او (له جهته د) هغه څیز چې نازل شوی دی له حق څخه (چې قرآن دی).

تفسیر: یعنې هغه وخت رارسېدلی دی چې د مؤمنانو په زړونو کې د الله تعالی او د قرآن یاد او مینه او محبت لا ښه ځای ونیسي، او د اسلام د حقاني دین په مقابل کې غاړه کېږدي، او ښه پاسته شي، او له الله تعالی څخه لا ووېريږي.

وَلَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ ۭ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝۱۶

او نه دې کيږي (په سختوالي د زړه کې) په شان د هغو کسانو چې ورکړی شوی وو هغوی ته کتاب پخوا له دې څخه، نو اوږده شوه په دوی باندې زمانه، نو سخت شول زړونه د دوی، او ډېر له دوی څخه فاسقان نافرمانان دي.

تفسیر: یعنې ایمان همغه دی چې زړونه پرې نرم شي، د نصیحت او د الله تعالی یاد په هغو باندې ډېره اغېزه او اثر واچوي، او ژر يې قبول کړي، پخوا به اهل الکتابو ښه پندونه د خپلو پیغمبرانو له صحبته اخیستل، له څو مودې راهیسې پر هغوی باندې د غفلت خوب غلبه کړې ده، او هر شی له دوی څخه هېر او زړونه يې سخت او په اکثرو د دوی کې ډېره سرکشي او یاغیتوب پېښ شوی دی، نو اوس د مسلمانانو وار راغلی دی، چې هغوی د خپل مبارک پیغمبر له صحبت څخه ښې ګټې وکړي، او په نرم زړه کامل انقیاد او د ذکر الله په پوره خشوع او زیات خضوع سره د الله تعالی او د ده د رسول اوامر او احکام ومني، او په ښو صفاتو سره متّصف شي، او هغه لوی مقام ته وخیژي چې هلته تر اوسه پورې بل کوم امّت نه دی ختلی.

اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ۝۱۷

پوه شئ تاسې چې بېشکه الله ژوندی کوي زرغونوي ځمکه وروسته له موت، وچوالي د هغې (په باران سره)، په تحقیق ښکاره بیان کړي دي مونږ تاسې ته دلائل او آیتونه لپاره د دې چې تاسې عقل په کې وچلوئ (او کار ترې واخلئ په دنیوي او اخروي امورو خپلو کې).

تفسیر: یعنې د عربو خلق جاهل او ګمراه او داسې وو لکه مړه ځمکه، اوس الله جل جلاله هغوی ته ایمان وروبانبه، او د علم په روح سره يې ژوندي او په دوی کې يې ګرد کمالات پیدا کړل، لنډه يې دا چې کوم (روحًا) مړ انسان لره نه ښایي چې مأیوس بې هیلي او ناامید شي، ځکه چې که په رښتیا سره توبه وکاږي؛ نو بیا الله تعالی د هغه په کالبد کې د ژوندون روح ننباسي.

اِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَالْمُصَّدِّقٰتِ وَاَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ۝۱۸

بېشکه خیرات ورکوونکی سړي او خیرات ورکوونکې ښځې او هغه څوک چې قرضونه يې کړي دي له الله سره قرض نېک؛ دوچند به کړ شي دوی ته (ثواب د قرض د هغوی)، او وي به دوی ته اجر ثواب ډېر لوی (چې جنّت دی).

تفسير: يعني هغه څوک چې د الله جل جلاله په لاره کې په خالص نيت سره د هغه د خوښې په خاطر خرڅ وکړي، او خپل مال ولګوي، او پرته له الله جل جلاله څخه د کومې بدلې يا د شکريې غوښتونکی نشي؛ ګواکې هغه پاک الله تعالى ته پور ورکوي، نو ډاډه اوسئ ! چې د هغه ورکړه به نه ضايع کيږي، بلکه څو چنده به يې بېرته ورکړئي.

وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ أُولَٰئِكَ هُمُ الصِّدِّيقُونَ ۖ وَالشُّهَدَاءُ عِندَ رَبِّهِمْ ۖ لَهُمْ أَجْرُهُمْ وَنُورُهُمْ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿١٩﴾

او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی په الله او په (ټولو) رسولانو د دغه (الله)؛ دغه کسان همدوی دي ډېر رښتيني او شاهدان دي (په ورځ د قيامت کې پر دروغ ويونکيو باندې) په نزد د رب خپل، وي به دغو (صديقانو مؤمنانو) ته اجر د دوی او رڼا د دوی (چې پرې تيريږي به په پل صراط باندې)، او هغه کسان چې کافران شوي دي، او نسبت د دروغو يې کړی دی آيتونو ځمونږ ته؛ هغوی دي ياران ملګري د دوزخ (چې اصلاً د همدوی لپاره جوړ شوی دی).

تفسير: محقّق مترجم (رحمه الله) په ښکاره سره د (الشهداء) عطف په (الصدّيقون) باندې منلی دی، يعنې هغه خلق چې په پاک الله او د ده په رسول پوره يقين لري، او د دې يقين اثر د دوی له اعمالو او احوالو څخه هم ښکاري، نو دوی رښتيني او پاخه ايمانداران دي، او د الله تعالى په مخ کې هم دوی د شاهدانو په ډول د نورو حال او احوال هم رابښکاروي، لکه چې د «البقرة» د سورت په (١٧) رکوع (١٤٣) آيت ځمونږ د دغه مقدّس تفسير کې داسې يو آيت راغلی دی: ﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا﴾ په آخرت کې به داسې رينبتونکيو ايماندارانو لره د دوی د عمل او د ايمان له درجې سره سم ثواب او رڼا وربښله کيږي.

اعْلَمُوا أَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ ۖ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُونُ حُطَامًا ۖ وَفِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٌ ۚ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ ﴿٢٠﴾

پوه شئ تاسې (ای تشې دنيا خوښوونکيو) چې بېشکه دغه ژوندون لږ خسيس خوشې بې فائدې لوبې، او بېکاره عبث مشغولتيا، او زينت ښايست، او فخر لويي کول دي په منځ ستاسې کې يو په بل باندې، او ډېروالی دی په اموالو او (ډېروالی دی) په اولاد کې، په مثل (د نباتاتو) د باران دي (چې پر تېزې ځمکې باندې اوري)، ښه ښکاري ناشکرانو کوونکو لره زرغونه د دغه (باران)، بيا وچه شي (دا ګيا)، نو پس وبه وينې (ای کتونکيه) هغه (زرغونه يا نبات) زېړ شوی (پس له شينوالي د هغه)، بيا شي هغه (وچ وابنه) مات تار په تار، او په آخرت کې عذاب شديد سخت دی (لپاره د هغه چا چې منګولې يې ولګولې په تشو دنيوي امورو، او آخرت ته يې شا کړه)، او مغفرت ښښنه ده لويه له (جانبه) د الله، او رضوان رضاء خوښي ده (هغه چا ته چې مشغول شي په اخروي امورو او دنيا ته شا کړي)، او نه دی (دغه) ژوندون لږ خسيس مګر دی متاع اسباب د غرور د غولېدلو (چې نه پاتې کيږي).

تفسير: هر سړی د خپل عمر په اول کې بازي او لوبې کوي، بيا په جوړښت ډول او فېشن او سينګار پسې ګرځي، بيا د خپل پت او د اعتبار په زيادت پسې لويږي، بيا يې د مړينې ورځ نژدې کيږي، د مال او اولاد په فکر کې ډوب تللی وي، چې وروسته له ما ځنې به ځما د کور، کهول، آل اولاد حال او ژوندون څرنګه وي؟ مګر دا ګرد ساز او سامان، فکرونه

او جاجونه فاني او زائل دي، لكه چې د كښتو رونق او بهار د څو ورځو له مخې وي، بيا زېړ شي او وچيږي، او انسانان او حيوانات يې ګوډ او ماتوي، او ذره ذره كوي يې، او د هغه د سينګار او رونق نوم او نښه نه پاتې كيږي، د دنيا د ژوندون حال او احوال او د هغه ساز او سامان هم داسې وګڼئ، چې سړی د هغه په عارضي باغ او بهار باندې غوليږي او تېروځي، او خپل انجام پرې خرابوي، ځكه چې وروسته له مرګه هيڅ يو له دې شيانو څنې نه په كاريږي، او هلته يواځې هغه ايمان او ښې چارې او صالحه اعمال په كاريږي او په درد يې خوري، چې سړي په دنيا كې كړي وي، او كه كور يې ورانيږي، په آخرت كې هغه لره د الله تعالى خوښي او رضامندي لاس ته نه ورځي، هغه كسان چې د ايمان له دولت څخه بې برخې وي، او د كفر او عصيان او د ګناهونو له پيټې سره آخرت ته حاضريږي؛ هغه ته به سخت عذاب وررسيږي، او هغو مړيو ته چې سره د لرلو د ايمان يې خپلو ايماني چارو كې څه لنډوالى او كوتاهي كړې وي؛ د هغوى له قصور سره برابره سزا ورکوله كيږي، او بيا يې پاک الله بښي، د دنيا خلاصه هغه وه، او د آخرت مجموعه دا ده:

سَابِقُوٓا۟ إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ۚ ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٢١﴾

تلوار وكړئ وځغلئ تاسې (اى مؤمنانو !) طرف د مغفرت او بښنې ته چې له (جانبه) د رب ستاسې ده، او (تلوار وكړئ وځغلئ تاسې اى مؤمنانو هغه) جنّت ته چې پلنوالى يې (داسې) دى لكه پلنوالى د اسمان او د ځمكې، تيار كړى شوى دى لپاره د هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى په الله او (ايمان يې راوړى دى) په رسولانو د دغه (الله)، دغه (موعود جنّت، مغفرت، رضاء، لقاء) فضل د الله دى چې عطا كوي يې هغه چا ته چې اراده وفرمايي (د عطا يې، چې مؤمنان دي)، او الله څښتن د فضل عظيم دى.

تفسير: يعنې له موت او مړينې څخه پخوا د هغو شيانو په راغونډولو پسې ولوښئ چې د هغو په وسيله ستاسې ګناهونه وښيل شي، او جنت مو په برخې شي، په داسې ښو چارو كې لټې كول او سستي كول ښه كار نه دى، او وړاندې والى وكړئ وځغلئ تاسې اى مؤمنانو ! هغه جنّت ته چې پلنوالى يې داسې دى لكه پلنوالى د اسمان او د ځمكې، يعنې كه ځمكه او اسمان دواړه سره يو ځاى كړل شي؛ نو له هغو څخه به د جنّت عرض او سور جوړيږي، الله تعالى ښه پوهيږي چې د هغه طول اوږدوالى به څومره وي، تيار كړى شوى دى دغه جنّت لپاره د هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى په الله او ايمان يې راوړى دى په رسولانو د الله، دغه فضل د الله دى چې عطاء كوي يې هغه چاته چې اراده يې وفرمايي، يعنې ايمان او ښه عمل خو بېشكه د جنّت د حصول وسيله ده، ليكن په حقيقت سره به د جنّت موندل د الله تعالى په فضل او كرم پورې اړه لري، كه د هغه فضل او كرم نه وى، نو له سزا څخه ځان بچ كول سخت دي، او جنّت ته رسېدل خو جلا خبره ده.

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَآ ۚ

نه رسيږي هيڅ مصيبت آفت غم په ځمكه او نه ستاسې په ځانونو كې مګر هغه خو ليكلى شوى دى په كتاب (لوح محفوظ) كې پخوا له هغې څخه چې پيدا كړى وي مونږ هغه (په دنيا كې).

تفسير: په دنيا او نړى كې هغه عمومي آفتونه لكه قحط او سوكړه، زلزله، وبا او نور چې راځي، او هغه غمونه او آفتونه لكه رنځ، درد، ناروغي او نور چې په ځينو سړيو كې ليدل كيږي؛ دا ګرد د الله تعالى په علم قديم كې شته، او فيصله يې صادره شوې ده، او په لوح محفوظ كې ليكلې شوې ده، چې سم له هغه سره دا ګردې پېښې واقع كيږي، او د يوې ذرې په اندازه او مېچ هم په هغه كې څه شى نه لږ او نه ډيريږي.

إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٢٢﴾

بېشكه دا (اندازه پخوا له پيدا كولو) پر الله ډېره آسانه ده.

تفسير: يعنې الله تعالى د هر شي علم په ذاتي ډول سره لري، او په زحمت او تكليف يې نه زده كوي، نو بيا هغه ته د علم محيط سره سم د ځردو واقعاتو او حوادثو ليكل پخوا له وقوع څخه په هغه كتاب (لوح محفوظ) كې آيا كوم مشكل كار دى؟ بلكه ډېر ورته سهل او آسان دى، او خبر كړئ تاسې الله أكرم شأنُه وأعظمَ برهانُه په دې سره:

لِّكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ ۗ

لپاره د دې چې خفه نشئ تاسو پر هغه څه چې فوت شوي له لاسه وتلي دي د تاسو، او خوشاله نشئ تاسې په هغه څه چې تاسې ته يې دركړي وي (په خوشحالتيا د كبر او هوا سره).

تفسير: په دې حقيقت مو ځكه تاسې ته خبر دركړى دى چې تاسې ښه وپوهېږئ: هغه فائدې چې تاسې لره مقدّرې دي؛ هغه به ضرور در رسېدونكې وي، او هغه چې مقدّرې نه دي؛ هيڅكله په لاس نه درځي، هر هغه شى چې د الله تعالى په قديمي علم كې مقرّر او ټاكلى شوى دى؛ هم هغسې كېدونكى دى، نو ځكه كه كومه ځټه د چا لاس ته ونه رسيږي؛ ښايي چې پرې خفه او مضطرب نه شي !، او هغه شى يې چې په برخه ورسيږي؛ په هغه باندې ځان تريخ او تريو او مضطرب نه كړي، بلكه د مصيبت او ناكامۍ په وخت كې صبر او تسليم، او د هوسايۍ او كاميابۍ په وخت كې دې شُكر او حمد ووايي.

وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿٢٣﴾ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ ۗ

او الله نه خوښوي هر متكبّر (په نعمت باندې) او فخر كوونكى (په نورو باندې). هغه كسان چې (همدوى پخپله) بخل كوي، او (هم) امر كوي خلقو ته په بخل سره (نو دوى لره سخت عذاب وركوي).

تفسير: د زياترو متكبّرو مالدارانو حالت داسې دى چې لويي كوي، خو د لګولو په وخت كې به يو پول او پيسه هم د دوى له جيبه څخه نه راوځي، په كوم يوه ښه كار كې به دى پخپله د وركولو توفيق نه لري، مګر پخپلو ويلو او كولو سره نورو ته دا وربښيي چې په موقع كې خرڅ كول د هغو متوكلانو او همّتناكو كار دى چې له پيسو سره دومره زياته مينه او محبت نه كوي، او پوهيږي چې سختي او نرمي او نور ځرد هغه على الاطلاق مالك له لوري دي.

وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٢٤﴾

او هر هغه چې مخ يې وګرځاوه (له احكام الله نه)؛ نو بېشكه الله همغه غني بې پروا په صفتونو سره، ښه ستايلى شوى دى.

تفسير: يعنې ستاسې له خرڅ كولو او نه كولو څخه هغه ته هيڅ يوه ګټه نه وررسيږي، هغه خو بې نياز او بې پروا ذات دى، ځردې ښېګڼې (فائدې) او صفات على وجه الكمال د ده په ذات كې سره ټول شوي دي.

لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۖ

خامخا په تحقيق لېږلي وو مونږ پيغمبران خپل سره له ښكاره وو دلائلو او نازل كړى وو مونږ له هغوى سره كتاب او ميزان تله (قواعد د عدل) لپاره د دې چې ودريږي خلق په انصاف باندې.

تفسير: ښايي چې له دې کتاب او ميزان او تلې څخه د تللو تله مراد وي، چې په هغې سره خپل حقوق اداء کوي، او راکړه ورکړه کوي، او د هغې په وسيلې سره عدل او انصاف کيږي، يعنې کتاب الله ځکه نازل شوی دی، چې خلق په عقائدو، اخلاقو، اقوالو کې د عدل او انصاف په سمه لاره لاړ شي، او د افراط او تفريط څخه بالکل ځانونه وژغوري، او تله يې ځکه ټاکلې وه، چې په پلورلو او پيرودلو (بيع شراء) او نورو معاملاتو کې د انصاف د تلې پلې چاپېرې هيڅ لوري ته ښکته او پورته نه وي، او ممکن دي چې له تلې څخه شريعت مراد وي، چې د ګردو قلبيه وو او قالبيه وو اعمالو حُسن او قُبح مونږ ته په ښه ډول سره راښيي، والله أعلم.

وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ

او رالېږلې ده مونږ اوسپنه.

تفسير: يعنې الله تعالى «اوسپنه» پخپل قدرت پيدا کړه، او په ځمکه کې يې د هغه (معادن) کښښودل.

فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ

چې په دې کې سخت جنګ ډېر قوت دی، او (په کې ډېرې) منافع ګټې دي لپاره د خلقو.

تفسير: يعنې چې له دغې اوسپنې څخه د جګړې او جنګ وسلې او نور شيان جوړيږي، او د خلقو زيات کارونه په هغې باندې چليږي، او ګرد مدني او عصري امر پرې مربوط دی.

وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ

او بل لپاره د دې چې عالم شي الله (په علم ظاهري سره) په هغه چا باندې چې مرسته کوي له ده سره او له رسولانو د ده سره په غيبو سره (بې له ليدلو).

تفسير: يعنې هغه کسان چې د اسماني کتاب په لارښوونه په سمه لاره رانشي، او د انصاف او نياو تله په دنيا کې سمه ونه دروي، که ضرروت پېښ شي؛ نو هغوی ته جزاء او ګوشمالي ورکوله کيږي، او په ظالمانو معاندينو، مخالفينو او نورو کړو تلونکيو باندې به د الله تعالى او د ده د رسول د احکامو وقار او اقتدار قائميږي، په هغه وخت کې د توري له موټې څخه نيول او په يوه خالص اسلامي جهاد کې د داخلېدو وار راځي، چې په هغه کې به له همدې اوسپنې څخه کار اخيستل کيږي، په دې وخت کې به دا خبره راښکاره کيږي، چې کوم يو بنده وفادار دی؟ چې بې له ليدلو د الله تعالى د هغه مينه او محبّت او د آخرت په راتللو او د اجر او ثواب او په ګناه او عقاب باندې په غياب سره ايمان، يقين، او عقيده لري؟ او د هغه د دين او د هغه د رسول او د کتاب متابعت او اعانت کوي؟.

إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ

بېشکه الله ډېر قوي دي (په نصرت د احباوو) ښه غالب دی (په ذلّت د اعداوو).

تفسير: د جهاد تعليم او ترغيب د دې لپاره نه دی ورکړی شوی چې الله تعالى ستاسې مرستې، معاونت، او امداد ته څه اړتيا او احتياج لري، ځکه چې هغه لوی او بې نياز او بې پروا پروردګار ته دا بې وځلی او کمزوری مخلوق څخه مرسته او کومک ورسولی شي؟ او هغه به دوی ته څه اړتوب ولري؟ هو ! دومره ده چې الله تعالى له داسې امر څخه ستاسې د وفاداری امتحان او ازمويښه کوي، تر څو هغو بندګانو ته چې دوی په ازمويښه کې بريالي شي، لوړ او اعلى مقامات ورکړي.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا وَإِبْرَاهِيمَ وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْكِتَابَ

او خامخا په تحقيق لېږلی وو مونږ نوح او ابراهيم، او ګرځولي وو مونږ په اولاده د دغه (نوح او ابراهيم کې) نبوّت پيغمبري (او نازل کړی وو مونږ په اولادو د دوی کې) کتاب.

تفسير: يعنې د پيغمبرۍ او کتاب لپاره مونږ د دوی دواړو له اولادې څخه سړي غوره کړل، تر څو وروسته له دوی څخه دا لوی دولت د هغوی د ذريّت او خپلخانې او ځوځات څخه بهر لاړ نشي.

فَمِنْهُمْ مُهْتَدٍ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴿٢٦﴾

نو ځينې له دوی لار موندونکي دي، او ډېر له دوی څخه فاسقان نافرمانان وتونکي دي (له لارې حقې نه).

تفسير: يعنې هغو خلقو لره مو چې لېږلي وو، يا داسې يې وبولئ چې د دې دواړو له اولادې ځنې بعضې په لاره وو، او زياتره کسان نافرمانان ثابت شول.

ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلَىٰ آثَارِهِمْ بِرُسُلِنَا

بيا وروسته ولېږل مونږ پر آثار قدمونو د هغوی باندې نور رسولان خپل.

تفسير: يعنې وروستنيو رسولانو د هغو پخوانيو پيغمبرانو په پل باندې تګ کاوه، ځکه چې په اصولي حيثيت کې د ګردو رسولانو تعليم او ښوونه سره يوه وه.

وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَآتَيْنَاهُ الْإِنْجِيلَ

او وروسته راووست مونږ عيسى ځوی د مريمې، او ورکړ مونږ ده ته انجيل.

تفسير: يعنې الله تعالى په آخر کې د بني اسرائيلو د انبياوو خاتم يعنې عيسى عليه السلام ته انجيل ورکړ، او استاځى يې وټاکه، او هغوی ته يې واستاوه.

وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً

او ګرځولی وو مونږ په زړونو د هغو کسانو کې چې متابعت يې کړی وو د دغه (عيسى) رأفت، نرمي، او رحمت مهرباني.

تفسير: يعنې د عيسى المسيح عليه السلام ملګري چې په واقعي ډول د هغوی په طريقې باندې تلل، د هغوی په زړونو کې پاک الله نرمي ايښې وه، دوی د الله تعالى له مخلوقاتو سره د محبّت او شفقت په ډول سلوک کاوه، او پخپلو منځونو کې به هم تل په مهربانۍ اوسېدل، او ښه ژوندون يې سره درلود.

وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ إِلَّا ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللَّهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا

او (پيدا کړی وو دوی له ځانه) رهبانيت (ترک د دنيا) چې نوی يې له ځانه جوړ کړی وو دوی هغه (رهبانيت)، نه وو مقرّر کړی مونږ دغه (رهبانيت) په دوی باندې مګر (دوی غوره کړی وو رهبانيت) لپاره د خوښۍ د الله، پس ونه کړ دوی رعايت د دې لکه چې حق د رعايت يې وو.

تفسير: يعني په وروستنيو زمانو کې د مسيح عيسى عليه السلام تابعين د بې دينو باچاهانو له لاسه په تنګ شول، او د دنيا له مخمصو څخه وويرېدل، او د رُهبانيت يو بدعت يې وويست، چې د هغه حکم د الله تعالى له لوري نه دى شوى، مګر د رُهبانو نيت هسې وو چې د پاک الله خوښي حاصله کړو، خو بيا يې هغه په پوره ډول سره پاى ته ونشو رسولى.

شاه صاحب ليکي: «دا د فقيرى او تارک الدنيا کېدلو رسم پرنګيانو (نصارى) ايستلى دى، دوى به په ځنګلو کې يوه تکيه جوړوله، او هلته به کېناستل، نه به يې ښځه لرله، او نه به د اولاد په فکر کې لوېدل، شپه او ورځ به يې عبادت کاوه، له خلقو سره به يې خبرې اترې نه درلودې، او له هغوى ځنې به لرې تښتېدل، او حال دا دى چې الله تعالى خپلو بندګانو ته داسې حکم نه دى کړى چې دنيا داسې پرېږدئ، او له ټولمې وزګار کېنئ، نو کله چې دوى پخپلو ځانونو باندې د دنيا ترک نوم کېښود، بيا نو په پټه او پردې کې د دنيا غوښتنه ډېره لويه ګناه ده»، د اسلامي حق شريعت له فطري اعتدال څخه پرته (متجاوز) د داسې رهبانيت منع فرمايلې ده.

تنبيه: «بدعت» هغه کار ته وايه شي چې د هغه اصل په پاک قرآن او احاديثو او په هغو پېړيو (قرنو) کې چې مشهود لها بالخير دى؛ نه وي، او هغه د دين او د ثواب کار وګڼه شي.

فَاٰتَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْهُمْ اَجْرَهُمْ ۚ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٢٧﴾

پس ورکړ مونږ هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړى وو (په محمّد) له هغو څخه اجر ثواب د دوى، او ډېر له دوى څخه فاسقان نافرمانان دي.

تفسير: يعني په دوى کې اکثر نافرمانان دي، نو ځکه سره له دې چې پر خاتم الأنبياء صلى الله تعالى عليه وعلى آله وصحبه وسلّم پخپلو زړونو کې يقين او باور لري، خو بيا هم پر دوى ايمان نه راوړي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا تَمْشُوْنَ بِهٖ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٨﴾

اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړى دى (يعني اى مؤمنانو پر پخوانيو انبياوو) ! وويرېږئ تاسې (له عذابه) د الله، او ايمان راوړئ په رسول د دغه (الله چې محمد دى)، چې درکړي تاسې ته دوه حصې برخې له رحمته خپله، او چې وګرځوي تاسې لره يوه رڼا چې تلل به کوئ په هغې سره (پر صراط)، او وبښي تاسې ته (ګناهونه ستاسې)، او الله ښه مغفرت کوونکى (د خطياتو) ډېر رحم کوونکى دى.

تفسير: يعني اى کتابيانو ! د دغه محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم تابع اوسئ !، تر څو دا نعمتونه ومومئ، او ستاسې تېرې خطاوې وبښلى شي، او د ښه عمل او هر کار دوچنده ثواب در ورسېږي، او سره له خپلې رڼا هر چېرې وګرځئ، يعني ستاسې ښه د ايمان او د تقوى په وسيله رونړ او نوراني شي، او په آخرت کې هم دا رڼا ستاسې په مخ او ښي څنګ کې له تاسې سره هر چېرې لاړه شي.

لِّئَلَّا يَعْلَمَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَلَّا يَقْدِرُوْنَ عَلٰي شَيْءٍ مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاَنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿٢٩﴾

لپاره د دې چې وپوهيږي اهل د کتاب (په دې) چې قادران نه دي دغه (منکران) په هيڅ شي له فضل د الله نه، او (بل عالمان شي دغه منکران په دې) چې بېشکه فضل لويي په لاس د الله

کې ده، ورکوي يې هر هغه چا ته چې اراده وفرمايي (د ورکولو يې)، او الله خاوند د فضل ډېر لوی دی.

تفسير: يعنې اهل الكتابو د پخوانيو پيغمبرانو خبرې او قصې اوربدلې، او خپل افسوسونه او ارمانونه يې داسې ښکارول چې: کاشکې مونږ هم د هغو په پېړيو کې اوسېدی، تر څو مو هغه درجې او مرتبې موندلې وی، اوس مونږ ته د هغو برکاتو موندل ګران دي، نو دلته داسې وايه شي چې: هغه پيغمبران هم د الله تعالى له لوري لېږلی شوي وو، او هغه دوچنده ثواب ورکول هم د پاک الله له درباره مرحمت کيږي، او حال دا دی چې اوس همغه الله تعالى شته، او د هغه د فضل او کمال بحار او سيندونه تر څنډو ډک خاړخوړې بهيږي.

تمت سورة الحديد، بفضل الله المجيد، فله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ المُجَادِلَةِ

«د (المجادلة) سورت مدني دی، (۲۲) آیته (۳) رکوع لري، په تلاوت کې (۵۸) او په نزول کې (۱۰۵) سورت دی، وروسته د «المنافقون» له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِي إِلَى اللَّهِ

په تحقیق اورېدله الله خبره د هغې (ښځې) چې سوال او ځواب یې کاوه له تا سره د خپل خاوند په شان کې، او شکایت یې کاوه الله ته.

تفسیر: پخوا له اسلام څخه که کوم سړي خپلې ښځې ته ویل چې ته مې مور یې؛ نو دا خبره داسې ګڼله کېده چې هغه د ژوندون تر آخره پورې په هغه باندې حرامه شوه، او بیا به هیڅ یو داسې صورت هغه ته نه وو چې هغه ښځه یې بیا ښځه شي، ځمونږ د رسول أکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کې یو مسلمان چې نوم یې «أوس بن الصّامت» رضي الله تعالی عنه وو، خپلې ښځې ته چې «خوله بنت ثعلبه» رضي الله تعالی عنها نومېده؛ همداسې وویل، هغه ښځه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخ کې ودرېده، او دا قصه یې ورته وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې: د دې معاملې په نسبت لا د الله تعالی له لوري ماته کوم خاص حکم نه دی رارسېدلی، خو زه خیال کوم چې ته په هغه باندې حرامه شوې یې، او وروسته له دې څخه تاسې سره ګډ نه شئ اوسېدلی، هغې ښځې په نارو او چغو باندې پیل (شروع) وکړ، او داسې به یې ویل چې: «ځما ودان کور وران او واړه ماشومان مې خوار او پرېشان شول»، کله به یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره داسې جګړې کولې چې: «یا رسول الله ! د هغه مقصد د دې الفاظو له ویلو ځنې د طلاق اراده نه وه»، کله به یې د الله تعالی په دربار کې ژړا او انګولا کوله، او داسې به یې ویل: «آ اله العالمینه ! زه د خپل یواځېتوب او د دې مصیبت شکایت ستا دربار ته کومه، ته مې په عرض او فریاد ورسه !، که نه دا ځما ماشومان که له ما سره پاتې شي؛ له لوږې څخه مري، او که یې هغه ته ورکړم؛ نو ځما د نه پاللو او نه ساتلو څخه له کاره وځي او ضایع کیږي، ای الله تعالی ! ته پخپله د آخر الزّمان نبي په خوله ځما د ژغورنې (بچ کېدنې) یوه لاره راوښیه !، او ځما دا مشکل او غوټه را وپرانیځه !» نو په دې وخت کې دا آیات نازل او د «ظهار» احکام ورانعام شول.

تنبیه: «ظهار» په شریعت کې دېته وایي چې: د خپلې ښځې کومه (عضو) د ابدیه محرّماتو: مور، خور، او نورو کومې عضوې سره تشبیه ورکړي، چې د هغه کل ده ته حرام او ناروا وي، لکه چې داسې ووایي چې: «أنت علي کظهر أمّي» «ته دې پر ما باندې داسې یې لکه ځما د مور شا»، د «ظهار» د احکامو تفصیلات دې په فقهي کتابونو کې وکتل شي !.

وَاللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ①

او الله اورېده سوال او جواب ستاسې، بېشکه چې الله ښه اورېدونکی دی (د ټول اقوالو) ښه کتونکی دی (د کړدو احوالو).

تفسير: يعنې الله تعالى هر څيز وينې او اوري يې، هغه خبرې اترې چې ستاسې او د هغې ښځې په منځ کې وشوې؛ نو هغه به يې ولې نه وي اورېدلې، محقّقه ده چې پاک الله د هغې مصيبتناکې ښځې په شکايت چې فرياد يې کاوه؛ ورسېده، او د همېشه لپاره يې د داسې حوادثو د ژغورنې لاره په لاندې ډول سره څرګنده کړه !.

الَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَائِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ ۖ إِنْ أُمَّهَاتُهُمْ إِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ ۗ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُورًا ۚ

هغه کسان چې ظهار کوي (مور وايي) له تاسې څخه ښځو خپلو ته؛ نه کېږي دغه ښځې (په بللو د دوی سره) مېندې د دوی، نه دي مېندې د دوی مګر هغه ښځې دي چې څېږولې يې وي دوی، او بېشکه دوی خامخا وايي يوه خرابه (نااشنا خبره) له خبرې او دروغ وايي.

تفسير: يعنې ماندينه (منکوحه) کله چې دی يې نه دی څېږولی، نو څرنګه د ده مور کېدی شي؟ او څنګه به په محض يوه تشبيه سره د تل لپاره په ده باندې لکه حقيقي مور غوندې حرامېږي؟، هو ! که کوم سړی د خپلې بې تميزۍ لامله داسې يوه دروغ او چټې او نامعقوله خبره وکړي؛ نو د هغې بدله دا ده چې کَفّاره دې ورکړي، بيا که هغې ته ورنژدې شي، يا ورنژدې نشي؛ هغه ښځه د ده ښځه ده، او له ظهاره طلاق نه اوړي.

وَإِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ﴿٢﴾

او بېشکه الله خامخا ښه عفو کوونکی ښه مغفرت کوونکی دی.

تفسير: يعنې هغه حرکتونه چې د جاهليت په زمانه کې شوي دي؛ هغه ګرد معاف دي، اوس وروسته له هدايته هسې مه کوئ !، که په غلطه له تاسې څخه داسې ګناه کېږي؛ نو ژر تر ژره توبه وباسئ !، او پخوا له دې څخه چې خپلې ښځې ته ورنژدې شئ؛ د «ظِهار» کفارت اداء کړئ !.

وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا ۚ

او هغه کسان (چې مور وايي) ظهار کوي له ښځو خپلو نه، بيا راګرځي دوی (ماتولو د) هغې خبرې ته (چې ويلې يې وي)؛ نو لازم دي دوی ته ازادول د مريي پخوا د هغه چې يو بل سره مسه کړي (په وطي سره).

تفسير: يعنې د دغه لفظ «أنت علي كظهر أمي» له ويلو څخه د مېړه او ښځې مسه کول او يو پر بل باندې لاس اچول او صحبت کول حرامېږي، کله چې يو مريي آزاد کړي، يا د دوو مياشتو د روژې ځنې فارغ شي، نو بيا يو بل ته سره نژدې کېدی شي.

ذَٰلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِ ۚ

دغه (حکم په کفّارت سره) پند درکاوه شي تاسې ته په دغه (حکم) سره).

تفسير: د کفارې مشروعيت ستاسې د تنبيه او پند لپاره دی، چې بيا داسې غلطي ونه کړئ !، او نور هم له هسې غلطيو ځنې ځانونه وساتئ !.

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝

او الله په هغه څه چې کوئ تاسې ښه پوهيدونکی دی (نو جزاء به پرې درکړي).

تفسير: يعنې سم د تاسې له احوال سره احکام درليږي، او په دې باندې پوهيږي چې تر کومې اندازې پورې تاسې په هغو باندې عمل کوئ.

فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ۚ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا ۚ

پس هغه چا چې ونه موند (مريي) نو (پرې لازم) روژه نيول دي د دوو مياشتو پرله پسې، پخوا له هغه چې يو بل سره مسه کړي (په وطي سره)، پس هغه چې توان نه لري (د روژې نيولو)؛ نو (پرې لازم) طعام ورکول دي شپېتو مسکينانو ته.

تفسير: يعنې که د غلام آزادولو توان نه لري؛ نو پرله پسې دوه مياشتې داسې روژې دې ونيسي چې په کې بې له عُذره هيڅ يو ډيل او پرېکړه واقع نشي، که په روژه نيولو باندې يې هم توان نه رسيږي؛ نو شپېتو تنو اکربانو او فقيرانو ته دې طعام او خواړه ورکړي، د دې مسئلې نور تفصيلات دې په فقهي کتابونو کې وکتل شي !.

ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۚ

دغه (تخفيف په کفّاره کې) لپاره د دې دي چې ايمان راوړئ تاسې په الله او په رسول د دغه (الله).

تفسير: يعنې د جاهليت د زمانې خبرې پرېږدئ !، او د الله تعالى په حکمونو باندې تګ وکړئ، او هسې چارې وکړئ چې مؤمن لره ښايي، او د مؤمن له شان څخه وي.

وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۗ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۗ وَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ ۗ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝

(دا مذکوره احکام) حدونه د الله دي (معين کړی شوي)، او کافرانو ته عذاب ډېر دردناک دی. بېشکه هغه کسان چې مخالفت کوي له الله نه او له رسول د دغه (الله) څخه؛ خوار هلاک به کړل شي دوی لکه خوار هلاک کړی شوي وو هغه (کسان) چې پخوا له دوی څخه وو، او په تحقيق نازل کړي دي مونږ دلائل روښانه، او کافرانو منکرانو ته عذاب سپکوونکی، رسوا کوونکی دی (په دنيا يا عُقبا کې).

تفسير: يعنې مسلمانانو ته نه ښايي چې د الله تعالى له ټاکليو حدودو څخه تجاوز وکړي، پاتې شول کافران چې د الله تعالى د حدودو څه پروا نه کوي، او پخپل فکر او غوښتنه سره حدود ټاکي؛ نو تاسې هغوی پرېږدئ چې هغوی لره درد رسوونکی عذاب دی، داسې خلق به پخوانيو زمانو کې هم ذليل او خوار وو، اوس هم خواريږي، د الله تعالى د قُدرت د دلائلو له ليدلو او د رښو او ښکاره وو نښو له اوربدلو څخه وروسته بيا پخپلو انکارونو باندې کلک پاتې کېدل، د الله تعالى د احکامو عزت او احترام نه کول؛ د خپل ځان د ذلت او سپکتيا او بې احترامۍ او خواری په عذاب کې ځان اخته کولو سره مرادف دي.

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوا

(ياد کړه ای محمده !) هغه ورځ چې ژوندي به پورته کړي الله دوی ټول له قبورو، پس خبر به کړي (الله) دوی په هغو کارونو باندې چې کړي يې وي.

تفسير: يعنې هر هغه کارونه چې دوی کړي وي، د هغو له نتيجې سره به مخامخ کيږي، د دوی به هيڅ عمل غائب کېدونکی نه وي.

أَحْصَاهُ اللَّهُ وَنَسُوهُ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ۝٦

شمېرلي ساتلي دي هغه (اعمال) الله، او هېر کړي دي هغوی (هغه اعمال)، او الله پر هر شي باندې ښه شاهد، ښه خبردار دی (نو ور به کړي دوی ته جزاء موافقه).

تفسير: يعنې هغوی ته د هغوی د ګرد عمر کارونه او اعمال هيڅ په ياد هم نه دي پاتې شوي، يا هغوی ته يې هيڅ توجّه نه ده شوې، ليکن د الله تعالی په نزد هغه ګرد يو په يو محفوظ او ساتلي شوي دي، دی به هغه ګرد دفترونه په هغه ورځ کې پرانيځي، او د هر سړي په مخ کې به يې وړدي.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۖ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَاثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَا أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَا أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا

آيا نه وينې ته، نه يې خبر چې بېشکه الله ته ښه معلوم دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي، او هر هغه څه چې په ځمکو کې دي (بلکه خبر يې)، نه به وي پټې خبرې (يو د بله په غوږونو کې) د درې تنو مګر خو دغه (الله) به څلورم د هغوی وي (په اعتبار د علم سره)، او نه به وي پنځه تنه (راز ويونکي) مګر خو دغه (الله) به شپږم د هغوی وي (په اعتبار د علم سره)، او نه به وي لږ له دې (عدد) نه او نه به وي ډېر (له دې عدد نه) مګر خو وي به دغه (الله) له هغو سره (په اعتبار د علم سره) هر چېرې چې وي هغوی.

تفسير: يعنې د الله تعالی علم يواځې د دوی په اعمالو باندې منحصر نه دی، بلکه د هغه په علم کې د اسمان او ځمکې هر وړوکی او لوی شی شته، هيڅ يو مجلس، مشوره، جرګه، مرکه، پټه خبره، ګنګوسه او پس پسې به نه وي چې الله تعالی به په هغوی باندې نه خبر يږي، د ده محيط علم په هر شي او هر ځای باندې رسيږي، هر چېرې چې درې سړي سره کېني، او خبرې اترې سره وکړي؛ دوی دې داسې نه ګڼي چې دلته بل څلورم څوک نشته، او پنځه ګونې مرکه دې خيال ونه کړي چې له مونږ سره کوم شپږم اورېدونکی نشته، تاسو وپوهېږئ ! چې درې وي که څلور، يا پنځه، يا له دې څخه لږ يا ډېر، هر چېرې چې وي، او په هر حالت کې چې وي؛ الله تعالی په خپل محيط علم له هغوی سره شته، او هيڅ کله له هغوی څخه جلا نه دی.

ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ۝٧ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نُهُوا عَنِ النَّجْوَىٰ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَيَتَنَاجَوْنَ بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ

بيا به خبر کړي (الله) دوی په هغو (دنيوي اعمالو) چې کړي يې دي په ورځ د قيامت کې، بېشکه الله په هر څيز باندې ښه پوهېدونکی ښه خبردار دی. آيا نه وينې ته، نه يې خبر؟ هغه کسان

چې منع کړی شوي وو له پټو خبرو څخه، بیا بېرته ور وګرځېدل دوی هغه شي ته چې منع کړی شوي وو دوی له هغه څخه، او پټې خبرې کوي دوی په ګناه سره، او په تجاوز دښمنۍ ظلم سره، او په معصیت نافرمانۍ د رسول (د الله) سره.

تفسیر: ځمونږ د پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم په مرکه کې دوه مخو او منافقانو به پخپلو منځونو کې پټې خبرې سره کولې، د مرکې په سړیو باندې به یې مسخرې کولې، او عیبونه به یې څرګندول، یو د بل په غوږو کې به یې پس پسې کولې، او د سترګو او د سر په اشارو سره به یې له خپلو ملګرو سره خبرې کولو، چې له دې حرکاتو څخه صادقو او مخلصو مسلمانانو ته تکلیف پېښېده، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خبرې له اورېدلو څخه وروسته به یې ویل چې: «دا مشکل کار ځمونږ له لاسه کېدونکی نه دی»، اګر که پخوا له دې څخه د (النساء) په سورت کې له هسې سرګوشۍ او پټې خبرې څخه هم هغوی ته ممانعت شوی وو، خو دغو مؤذي او بې حیاء منافقانو سره له هغه د خپلو دې بدو عملونو څخه لاس وانخیست، دا دی اوس بیا د هغه په نسبت داسې ممانعت وشو.

وَإِذَا جَآءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ ٱللَّهُ ۙ وَيَقُولُونَ فِىٓ أَنفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا ٱللَّهُ بِمَا نَقُولُ ۚ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ۖ يَصْلَوْنَهَا ۖ فَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٨﴾

او کله چې راشي دوی تاته (ای محمده !) نو پېشکشي درکوي، سلام اچوي تاته په هغه شي سره چې پېشکشي نه ده مقرره کړې تاته په هغه شي سره الله، او وایي دوی په نفسو زړونو خپلو کې: ولې نه په عذابوي مونږ الله په هغه څه چې وایو یې؟ (نو فرمایي الله) بس دی دوی ته (په تعذیب کې) دوزخ چې ورننوځي په کې، نو بد ځای د ورتللو دی (دا دوزخ).

تفسیر: یعنې پاک الله له نورو پیغمبرانو سره تاسې ته داسې دعاوې فرمایلې (سلام علی المرسلین)، او (سلام علی عباده الذین اصطفی)، او د مؤمنانو په ژبه یې داسې ویل: «السلام علیک أیها النبي ورحمة الله وبرکاته»، مګر ځینې یهودان به کله چې د هغوی حضور ته راتلل؛ نو د «السلام علیک» په عوض به یې په ژوبلې ژبې سره ویل: «السام علیک» چې د هغه معنی داسې ده چې: «تا باندې دې مرګی راشي !» ګواکې د هغو د سلامتیا د دعاء په عوض کې چې الله تعالی هغوی ته ورکړی وو؛ دوی ښېراوې کولې، بیا به یې پخپلو منځونو کې سره ویل: که دی په رښتیا سره پیغمبر دی؛ نو د داسې وینا له ویلو سره سمدلاسه ولې پر مونږ باندې عذاب نه رانازلیږي؟ نو د دوی د دې سوال په ځواب کې فرمایي: ﴿حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ﴾ یعنې: تلوار مه کوئ !، داسې کافي پوره عذاب به درورسیږي، چې د هغه په مقابل به د بل عذاب ضرورت نه پاتې کیږي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا تَنَٰجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَٰجَوْا۟ بِٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَمَعْصِيَتِ ٱلرَّسُولِ وَتَنَٰجَوْا۟ بِٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ ۖ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) کله چې پټې خبرې کوئ تاسې یو له بله سره (په غوږونو کې)؛ پس مه کوئ پټې خبرې پخپلو منځونو کې په ګناه سره، او په تجاوز دښمنۍ ظلم سره، او په معصیت نافرمانۍ د رسول (الله) سره، او پټې خبرې مصلحت کوئ پخپلو منځونو کې په احسان نېکۍ او پرهېزګارۍ سره.

تفسیر: یعنې صادقو مسلمانانو لره ښایي چې د منافقینو له داسې عاداتو څخه ځانونه وژغوري، او د مسلمانانو پس پسې او ګنګوسۍ او مشوره نه ښایي چې د ظلم او عدوان او د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د نافرمانۍ لپاره وي، بلکه د نېکۍ، د تقوی او د معقولې او ښې خبرې د اشاعت لپاره وي.

وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٩﴾

او ووير ېرئ له (عذابه د) الله هغه (الله) چې خاص ده ته به تاسې جمع کړی شئ په قيامت کې جزاء ته.

تفسير: يعنې تاسې ټول د الله تعالى په مخ کې ودرېرئ، او تر ذرې پورې حساب ورکوئ، له الله تعالى څخه د هيڅا پټه او ښکاره پټه نه ده، نو ځکه د هغه د وېرې او د پرهېزګارۍ خبرې وکړئ !.

إِنَّمَا النَّجْوَىٰ مِنَ الشَّيْطَانِ لِيَحْزُنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَيْسَ بِضَارِّهِمْ شَيْئًا إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٠﴾

بېشکه چې پټې خبرې (په ګناه) (له کارونو) د شيطان دي، لپاره د دې چې خفه کړي هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، او نه دی (شيطان يا پټه خبره) ضرر رسوونکی دغو (مؤمنانو) ته د هيڅ شي مګر په اذن حکم اراده د الله، او ښايي چې خاص پر الله پس توکل دې وکړي مؤمنان.

تفسير: يعنې د منافقانو دا سرګوشی او پس پسی د دې لامله وي چې لږ څه مسلمانان خپه او په سودا کې ولويږي، ووېريږي او پخپلو زړونو کې ووايي چې آيا دا خلق څه غوټه کوي؟ او څه سره وايي؟ او په څه ټرون کې سره بوخت دي؟ دا کار شيطان په هغوی باندې کاوه، مسلمانان دې په ياد ولري چې د شيطان له لاسه هيڅ شی کېدونکي نه دي، او هيڅ يو څيز د هغه په واک کې نشته، ګټه او نقصان د الله تعالى په اختيار کې دي، که د هغه حُکم او اراده نه وي، که هر څومره مشورې او منصوبې او ټرون وکړي؛ تاته هيڅ نقصان نه شي رسولی، نو ځکه په ځای د دې چې تاسې خفه او پرېشان شئ؛ ښايي چې الله تعالى ته هيله او اميد او اسره وکړئ !.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوا فِي الْمَجَالِسِ فَافْسَحُوا يَفْسَحِ اللَّهُ لَكُمْ ۖ

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو) ! کله چې وويل شي تاسې ته: ځای ارت کړئ په مجلسونو کې؛ نو ځای ارت کړئ چې پراخي وکړي الله تاسې لره (په جنّت کې).

تفسير: يعنې ای مؤمنانو ! په مجالسو کې داسې سره کېنئ چې د کښېناستلو ځای نورو ته پاتې شي، او ټول موقع ومومي، او د نورو ځای تنګ نه شي، کله چې تاسو ځايونه ارت کړئ خلقو ته؛ نو پاک الله به هم تاسې له تنګی څخه وباسي، او د خپل رحمت ابواب او ورونه به در پرانيځي.

وَإِذَا قِيلَ انْشُزُوا فَانْشُزُوا

او کله چې وويل شي (تاسې ته) چې: پورته شئ ! (کوم ښه کار ته لکه لمونځ او نور)؛ نو پورته شئ !.

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «دا د مجلس ادب دی، که کوم سړی راشي او د هغه د کښاستلو ځای نه وي؛ نو نورو ته ښايي چې لږ لږ سره وخوځيږي، تر څو د مجلس حلقه لويه او ځای ارت شي، يا له خپلو ځايونو څخه ودرېږي او لږ څه ارته بله حلقه او پېنډه سره جوړه کړي، که بالکل د تللو په نسبت دوی ته وويل شي؛ نو لاړ دې شي، په داسې حرکت کې غرور او بخل کول ونه کړئ، ځکه چې په ښو خويونو په سړي باندې الله تعالى مهربان او له بدو خويونو څخه الله تعالى بېزار دی.

يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ

پورته کوي الله هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی له تاسې څخه، او (خاص پورته کوي) هغه کسان چې ورکړی شوی دی دوی ته علم پوهه په درجو مرتبو کې.

تفسیر: یعنې صادق ایمان او صحیح علم سړي ته ادب او تهذیب ورښیي، او متواضع کوي یې، علم او د ایمان خاوندان چې هومره کمالاتو ته ورسیږي، او لوړو (اوچتو) مرتبو ته وخیژي، او پرمختګ وکړي؛ هومره ځان ښکته، مات، متواضع او ناځیزه ګڼي، نو ځکه الله تعالی د هسې سړیو درجې لا پسې وچتوي، او دوی لا د پت او د عزّت خاوندان کوي (من تواضع رفعهُ الله)، دا د متکبّرانو، بې دینانو جاهلانو، ناپوهانو کار دی، چې په لږ خبره باندې جګړې نښلوي.

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿١١﴾

او الله په هغو (کارونو) چې کوئ تاسو ښه خبردار دی (نو جزاء به پرې درکړي).

تفسیر: یعنې هر یوه ته د هغه له کار، لیاقت او درجې سره سمه مرتبه ښنې، او هغه الله أکرم شأنُه وأعظم برهانُه ته ښه معلوم دی چې کوم یو په رښتیا سره ایماندار او د علم خاوند دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَاَطْهَرُ ؕ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٢﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو !) کله چې (اراده کوئ) د پټو خبرو له رسول سره؛ نو وړاندې کړئ په مخکښې د راز خپل څه صدقه، خیرات، دغه تقدیم د صدقې پخوا له پټو خبرو نه خیر بهتر ډېر غوره دی تاسې لره او ډېر پاکیزه دی، نو که بیا نه مومئ (تاسې هغه شی چې صدقه یې کړئ)؛ پس بېشکه الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیّاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسیر: منافقانو به بې فائدې خبرې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په غوږ کې ویلې، او په دې چل به یې خپله لویي او نژدېوالی نورو ته ورښود، او ځینو مسلمانانو به هم غیر مهمې خبرې د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په غوږ کې په ورو سره ویلې، او د هغوی وخت به یې خرابولو، او نورو ته به یې موقع نه ورکوله چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له ارشاداتو مستفید شي، یا که کوم وخت رسول الله مبارک غوښتل چې ګوښې کینې، او لږ څه خلوت شي؛ نو هلته به هم خلق ورننوتل، او هغه ځای به یې هم تنګوو، او دوی به یې پخپل فکر نه پرېښودل، او د هغوی په چار چاپېر کې به ډېر سړي غونډېدل، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم د مروت او اخلاقو له سببه هیچا ته هیڅ نه ویل، نو ځکه داسې حکم رانازل شو: «هر څوک چې غواړي له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره پټې خبرې او څه مصلحت وکړي؛ ښایي چې پخوا له هغه فقیرانو او مسکینانو ته څه خیرات ورکړي !»، د دې حکم په منلو کې څو ګټې دي، د غریبانو او فقیرانو سره امداد او معاونت کیږي، او د خیرات ورکوونکي د نفس تطهیر او تزکیه په عمل راځي، او د منافق او مخلص مسلمان معرفي او پېژندګلوي په ښه شان سره کیږي، او د پټو خبرو د کوونکیو لږ توب په عمل راځي، که له چا سره به د خیرات ورکولو څه شی نه وو؛ نو هغه له دې قید معاف وو، کله چې دا حکم نازل شو، نو منافقانو د بخل او کنسکې لامله هغه عادت پرېښود، او مسلمانان هم وپوهېدل چې ډېرې پټې خبرې کول د الله تعالی نه خوښیږي، او د دې لپاره یې داسې حکم را نازل کړی دی، په پای (آخر) کې یې دا حکم په راتلونکې آیت سره منسوخ وفرمایه:

ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَىْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقٰتٍ ۚ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا وَتَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۗ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٣﴾

آيا ويرېږئ تاسې (له فقر) چې وړاندې کړئ په مخکښې د پټې خبرې ستاسې صدقات خيراتونه، پس په هغه وخت کې چې ونه کړ تاسې دغه (خيرات) او رجوع په رحمت سره وکړه الله پر تاسې باندې؛ نو قائم کړئ سم ودروئ (سره له ټولو حقوقو) لمونځ، او ورکړئ تاسې زکات، او حکم ومنئ تاسې د الله او (حکم ومنئ تاسې) د رسول د دغه (الله)، او الله ښه خبردار دی په هغو اعمالو باندې (هم) چې کوئ تاسې (نو جزاء به يې درکړي).

تفسير: يعنې د صدقې د ورکولو له حکم څخه کوم مقصد چې وو؛ هغه حاصل شو، اوس مو دا مؤقت حکم له تاسې څخه پورته کړ، ښايي چې تاسې د هغه حکم په تعميل کې په صدق او د زړه له کومې څخه زيار (کوښښ) وکړئ چې هيڅ منسوخ کېدونکی نه دی، او هغه لمونځ روژه او نور حسنات دي، چې له دوی څخه د تاسې د نفس پوره تطهير او تزکيه کيږي.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ۗ

آيا نه ګورې ته (ای محمده !) هغو (منافقانو) ته چې دوستي کوي له (هغه) قومه (د يهودانو) سره چې غضب کړی دی الله پر هغوی باندې.

تفسير: دا خلق منافقان او هغه قوم او ټبر يهودان دي (چې دغه منافقين له هغو يهودانو سره دوستي او همدردي کوي).

مَا هُمْ مِّنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ ۙ

نه دي دغه (منافقان) له تاسې (مؤمنانو) څخه او نه له هغو (يهودانو) څخه.

تفسير: يعنې منافق نه په پوره ډول په تاسې مسلمانانو کې شامل دی ځکه چې په پټه کافر دی، او نه په پوره ډول په هغو يهودانو کې ځکه او شامل دي ځکه چې په ښکاره سره ځان مسلمان بولي: ﴿مُّذَبْذَبِيْنَ بَيْنَ ذٰلِكَ ۖ لَاۤ اِلٰى هٰۤؤُلَآءِ وَلَاۤ اِلٰى هٰۤؤُلَآءِ ۗ﴾.

وَيَحْلِفُوْنَ عَلَى الْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿١٤﴾

او قسمونه خوري (منافقان په دعوی د اسلام) په دروغو باندې حال دا چې دوی پوهيږي (پخپلو دروغو).

تفسير: قسمونه خوري منافقان په دعوی د اسلام او احترام د سيد الأنام صلى الله عليه وسلم، حال دا چې دوی پوهيږي چې دروغ وايي، او دروغ هم له بېخبرۍ او غفلت څخه نه بلکه په قصد سره پر دروغو خبرو باندې قسمونه خوري، مسلمانانو ته وايي: ﴿اِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ ۗ﴾ «هغوی له تاسې څخه دي او تاسې غوندې په رښتيا سره مسلمانان دي»، او حال دا دی چې هغوی له اسلام سره له لرې نه هم څه نسبت نه لري.

اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ۗ

تيار کړی دی الله دوی ته عذاب ډېر سخت.

تفسير: چې د هغوی په نسبت د دې پاک قرآن د (النساء) د سورت په (٢١) رکوع (١٤٥) آیت کې داسې ویلي شوي دي: ﴿إِنَّ الْمُنَٰفِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ﴾.

إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٥﴾

بېشکه دوی لره بد دی هغه شی چې وو دوی چې کول به یې (له ځناهونو).

تفسير: یعنې که څه هم اوس هغوی ته د دوی بد کارونه په نظر ورنشي، خو هغوی د نفاق په کارونو کې هسې سره بوخت دي چې ځان ته ډېر خراب تخم کري، او خپل ځانونه پخپلو لاسو سره په بلا اخته کوي.

ٱتَّخَذُوٓا۟ أَيْمَٰنَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٦﴾ لَّن تُغْنِىَ عَنْهُمْ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿١٧﴾

ځرځولي یې دي قسمونه خپل ډال (چې پرې ساتي سر او مال خپل)، پس منع کړل دوی (په دغو قسمونو سره مؤمنان) له لارې د الله څخه، پس دوی لره دی عذاب سپکوونکی. له سره به دفع نه کړي له دوی څخه (په قیامت کې) مالونه د دوی، او نه اولاد د دوی له (عذابه د) الله څخه هیڅ څیز، دغه کسان یاران ملګري د دوزخ دي، دوی به په دې دوزخ کې تل اوسېدونکي وي.

تفسير: یعنې د دروغو په قسمونو سره خپل ځانونه او مالونه د مسلمانانو له لاسو څخه ساتي، او خپل ځان مسلمان ورښکاروي، او د دوستۍ او خپلوۍ په ډول نور سړي هم د اسلام له لارې څخه باسي، نو په یاد یې ولرئ چې داسې خلقو ته په دې ډول سره هیڅ یو پت او عزّت نه پاتې کیږي، او د ذلّت او سپکتیا په سختو ربړو او عذابونو ککړ کیږي، کله چې د سزا وخت راورسیږي؛ نو دوی د الله تعالی له لاسه خپل ځانونه نشي ژغورلی، او دوی ته د دوی هغه مالونه او اولادونه څه مرسته او مدد رسولی نشي، چې دوی د هغو د حفاظت لپاره په دروغو سره قسمونه پرې خوړل.

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًا فَيَحْلِفُونَ لَهُۥ كَمَا يَحْلِفُونَ لَكُمْ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ ۚ

(یاد کړه ای محمده !) هغه ورځ چې ژوندي پورته کړي (دوی) الله ټول؛ نو قسمونه به خوري دوی هغه (الله) ته لکه چې قسمونه خوري دوی تاسې ته (په دنیا کې ای مسلمانانو)، او ګمان به کوي (دوی) چې بېشکه دوی په یو کار دي (نفعمن او پر کومه ښه لاره درومي).

تفسير: یعنې د دې ځای هغه روږد شوي عادت به هلته هم له دوی سره وي، لکه چې دلته ستاسې په مخ کې په دروغو سره ځانونه ساتي، او داسې ګڼي چې مونږ ډېر هوښیار یو، او ډېر ښه چالونه چلوو، د الله تعالی په مخ کې به هم د دروغو قسمونو په یادولو سره ځان تیاروي، او وایي: ای پروردګاره ! مونږ خو داسې نه وو، او داسې وو، ښایي دوی داسې ګڼي چې هلته به هم په داسې اقوالو او افعالو او ویناوو سره نجات مومو !.

أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْكَٰذِبُونَ ﴿١٨﴾

واورئ ! خبردار شئ ! چې بېشکه دوی هم دوی دي دروغجنان (چې له الله سره هم دروغ وایي).

تفسير: بېشکه چې اصل او ډبل دروغ هغه دي چې د الله تعالی په مخکښې یې هم وایي، او د خپلو هغو دروغ ویلو څخه هیڅ نه شرمیږي.

اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ فَاَنْسٰهُمْ ذِكْرَ اللّٰهِ ؕ

غالب شوی دی پر دوی باندې شیطان، نو هېر کړی دی شیطان له دوی نه ذکر ـ یاد د الله.

تفسیر: پر هر چا باندې چې شیطان داسې پوره لاس ولري؛ نو د هغه زړه او دماغ داسې مسخ او بدلیږي چې هیڅ یو شی یې په یاد نه پاتې کیږي، او په دې باندې هیڅ نه پوهیږي چې آیا پاک الله هم شته؟ که نه؟ دا کمبخت د الله تعالی له عظمت، لویي، جلال او کبریاء څخه ځان نه خبروي، او داسې خیال کوي چې په قیامت کې به هم د دروغو په مرسته خپل ځان وژغوري.

اُولٰٓئِكَ حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ؕ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ الشَّيْطٰنِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٩﴾

(دغه هیروونکي کسان) لښکر د شیطان دی، واورئ ! خبردار شئ ! بېشکه لښکر تابعان د شیطان همدوی دي زیانکاران.

تفسیر: د شیطاني لښکرو انجام ضرور خراب دی، نه په دنیا کې د دوی مکر، فریب، منصوبې د وروستني بري مخ لیدلی شي، او نه په آخرت کې له سخت عذاب څخه خپل ځانونه ژغورلی شي.

اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗٓ اُولٰٓئِكَ فِي الْاَذَلِّيْنَ ﴿٢٠﴾ كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَرُسُلِيْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿٢١﴾

بېشکه هغه کسان چې مخالفت کوي له الله او له رسول د دغه (الله) څخه؛ دغه (د مخالفانو ټولي) په (جملې د) ذلیلانو مغلوبانو کې دي. لیکلي دي الله (په لوح محفوظ کې) چې خامخا به غلبه بری وکړم هرومرو زه او رسولان ځما، بېشکه الله ډېر قوي دی ښه غالب دی.

تفسیر: یعنې له الله تعالی او د ده له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مقابله کوونکی چې د حق او صداقت په خلاف جنګیږي؛ سخت ناکام، سپک او ذلیل دي، پاک الله په لوح محفوظ کې لیکلي دي چې: په پای کې یوائې حق او حقّانیت لره بری او غلبه ده، او د ده پیغمبران هرومرو (خامخا) مظفّر او منصور کیږي، دغه تقریر پخوا له دې په څو څو نورو ځایونو کې هم تېر شوی دی.

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ

او نه به مومې ته (ای محمده !، او نه ښاییږي چې بیامومې) یو قوم چې ایمان یې راوړی وي په الله، او په ورځې آخرې (د قیامت) چې دوستي به کوي دوی له هغه چا سره چې مخالفت کوي له الله او له رسول د دغه (الله) نه، اګر که وي (دغه مخالفین) پلرونه د دوی، او ځامن د دوی، یا وروڼه د دوی، یا (نور قبیله) خپلوان د دوی، دغه (قوم چې له دښمنانو د الله سره دوستي نه کوي) لیکلی دی (الله) په زړونو د دوی کې ایمان.

تفسیر: یعنې ایمان د هغوی په زړونو کې داسې ټینګ ثبت شو، لکه هغه لیکه چې پر ډبره باندې لیکلې شوي وي.

وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ

او قوي کړي يې دي دوی په مدد له نزده خپل ځخه، (او قوي کړي قوت ورکړی دی الله تعالی دوی لره په روح رحمت نصرت خپل سره، یا په نور رښا د زړه یا په قرآن عظیم الشأن سره).

تفسير: يعنې غيبي رښا يې ورته عطاء وفرمايله، چې له هغې ځخه زړه ته يو راز ځانته معنوي ژوندون وررسيږي، يا د (روح القدس جبريل) په وسيله سره يې مرسته وفرمايله .

وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ

او داخل به کړي دوی (الله) په جنّتونو کې چې بهيږي له لاندې د (ونو او مانيو) د هغو (ځلور قسمه) ويالې، تل به وي دوی په هغو (جنتونو) کې، راضي شو الله له دوی ځخه، او راضي شول دوی له الله ځخه. (او خوشال شو الله تعالی له دوی نه په سبب د طاعت سره په دنيا کې، او خوشاله شول دوی له الله تعالی ځخه په موندلو د لقاء او رضاء او عطاء د جنّت په آخرت کې).

تفسير: يعنې دا خلق د پاک الله لپاره له ګردو اعداء الله ځخه خپه او ناراض شوي دي، نو الله تعالی له هغوی ځخه خوښ دی، له هر چا ځخه چې الله تعالی خوښ وي؛ نو دی نور څه غواړي.

ای رب العالمينه ! وګرځوه مونږ له دغو ځخه !.

أُولَٰئِكَ حِزْبُ اللَّهِ ۚ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ

دغه (خلق) دی حزب ـ لښکر د الله، واورئ ! خبردار شئ ! چې بېشکه لښکر د الله چې دی هم دوی دي په مراد رسېدونکي بريالیان (کامياب).

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «يعنې هغه څوک چې د الله تعالی له مخالفينو سره دوستي نه لري، اګر که يې پلار وي يا نور خپلوان هم وي؛ هغه هم رښتوني مسلمانان دي، او هغو ته هم دا درجه وررسيږي»، د کرامو أصحابو هسې شان وو چې د الله تعالی او د ده د رسول الله صلی الله عليه وسلم په معاملو کې به يې د هيڅ څيز او هيڅا پروا نه کوله، په همدې سلسلې کې د أحد په غزا کې ابو عُبيده رضي الله تعالی عنه خپل پلار وواژه، د بدر په غزا کې ابو بکر الصدّيق رضي الله تعالی عنه د خپل ځوی د مقابلې لپاره ځان تيار کړ، مصعب بن عُمير رضي الله تعالی عنه عُبيد بن عُمير وو وواژه، عمر بن الخطّاب رضي الله تعالی عنه د خپل ماما عاص بن هشام، علي بن أبي طالب، حمزه، عبيده بن الحارث رضي الله تعالی عنهم د خپلو خپلوانو مخې ته چې عُتبه، شيبه، او وليد بن عُتبه وو؛ ووتل او هغوی يې ووژل، او رئيس المنافقين عبد الله بن أبيّ يعنې د عبد الله ځوی چې هغه هم عبد الله نومېده، او د أبيّ لمسی وو؛ د رسول أكرم صلی الله عليه وسلم په مخ کې د مريسيع په غزا کې عرض وکړ، چې يا رسول الله صلی الله عليه وسلم ! که ستاسې امر وي؛ نو زه د خپل پلار سر اوس پرې کوم، او ستاسې په حضور کې يې لکه يو پنډوس غورځوم، خو د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا خبره خوښه نه شوه، فرضي الله عنهم ورضوا عنه.

تمّت سورة المجادلة، فلله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الحَشْرِ

«د (الحشر) سورت مدني دی، (۲۴) آیته او درې رکوع لري، په تلاوت کې (۵۹) او په نزول کې (۱۰۱) سورت دی، وروسته د (البينة) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ①

نسبت د پاکي کوي الله ته هر هغه چې په اسمانونو کې او هر هغه چې په ځمکه کې دی (سره له اسمانونو او ځمکې)، او همدغه (الله) ښه غالب دی ښه حکمت والا دی.

تفسیر: لکه چې د هغه د زبردستۍ غلبې او د حکمت له آثارو څخه یوه پېښه او واقعه وروسته له دې نه بیانېږي.

هُوَ الَّذِي أَخْرَجَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ دِيَارِهِمْ لِأَوَّلِ الْحَشْرِ ۚ

دغه (الله) هغه ذات دی چې ایستلي یې دي هغه کسان چې کافران شوي وو له اهل د کتابونو څخه له کورونو خپلو څخه په اول د ایستلو د دوی.

تفسیر: له مدینې منورې څخه د مشرق په لوري د څو کروهو په فاصله (واټن) کې د یهودانو د قوم او ټبر یو کلی وو چې «بني نضير» باله کېده، دا ټبر د ډېرو سړیو او شتو ـ مالونو خاوند وو، او پخپلو کلکو او مضبوطو کلاوو باندې یې زیات اطمینان او ډېره ډاډینه لرله.

ځمونږ پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم کله چې هجرت وفرمایه، او په مدینې منورې کې یې هستوګنه غوره کړه؛ نو رومبی دوی له مسلمانانو سره د روغې تړون وکړ، او داسې یې غوښته کړه چې مونږ به ستاسې په مقابله کې د نورو مرستې نه کوو، یعنې د عدم تعرّض معاهده یې وتړله، بیا دوی د خیانت له مخې د مکې معظّمې له کافرانو سره په پټه مکاتبې، لیکنې، خبرې اترې کولې، تر څو چې د دوی یو لوی مشر «کعب بن الأشرف» له څلوېښتو سورو سره مکې معظمې ته ځان ورساوه، او له بیت الله سره مخامخ د مسلمانانو په مخالفت له قریشو سره یې معاهده او تړون وکړ، څه موده وروسته د الله او رسول صلی الله علیه وسلم له امر سره سم دغه (کعب) د خپلې دغې درغلۍ او خیانت لامله د «محمد بن مسلمه» رضي الله تعالى عنه له لاسه وواژه شو، بیا هم د بني نضير له لوري د غداري او بد عهدۍ سلسله جاري وه، د مکر، فرېب او دغابازۍ له مخې دوی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره له څو تنو اصحابانو وبلل چې پخپلو کورونو کې یې په مکر، فرېب او درغلۍ سره ناڅاپه په شهادت ورسوي، یو ځلې یې د یوې لورې په څنګ کې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم له پاسه یو د ژرندې پل ور وغړاوه، چې که ځمونږ په پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندې لګېدلی وی؛ نو په شهادت به رسېدلی وو، مګر په دې ګردو مواقعو کې د الله تعالې په فضل او مرحمت سره اسلام او مسلمانانو د دوی له شرورو څخه نجات وموند، بالآخر رسول أکرم صلی الله علیه وسلم له مسلمانانو سره یوه جرګه وکړه، او په هغې کې یې دا سره غوښته کړه چې له بني نضير سره دې غزا وشي، کله چې مسلمانانو په ډېر سرعت ګرندیتوب او تلوار سره په هغوی باندې حمله یرغل ور ووړ، او د دوی ګردې کلاوې او کلي یې کلابند او محاصره کړل؛ نو دوی سخت مرعوب شول، او وویرېدل،

او د وېرې او ډار لامله له خپلو کلاوو څخه د باندې په ډګر جګړې ته راونه وتل، او عمومي جنګ ته وار ونه رسېد، او بيا يې د روغې غوښتنه وکړه، تر دې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په دوی باندې داسې مرحمت او مهرباني وفرمايله، چې دوی دې له مدينې منورې څخه د باندې ووځي، د دوی سرونه او وينې به ساتلې وي، دوی دې د خپلو منقوله وو اموالو څخه هومره شيان چې وړی يې شي؛ يودې سي، خو د دوی غير منقوله مالونه به د مسلمانانو په لاسونو کې وي، د الله تعالى په حکم هغه کلاوې او ځمکې او نور د مسلمانانو په لاس او قبضه کې ولوېدل، خو د غنائمو په ډول ونه ويشلى شوې، بلکه يواځې ځمونږ د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په واک کې پاتې شوې، محمد رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د دې ځمکې زياتره برخه پر مهاجرينو باندې وويشله، او د هغو مصارفو بار او پېټى يې د انصارو له اوږو څخه سپک کړ چې انصارو به پر مهاجرينو کول، او په دې ډول سره دواړو ته له هغه ځنې ګټې ورسېدې، او هم رسول أكرم صلى الله عليه وسلم د خپلې کورنۍ خرڅ او د نبوّت د مقام کلنې مصارف له همدې جايداده اخيسته، که له داسې مصارفو څخه څه شى بېرته پاتې کېده؛ هغه به يې د الله تعالى په لاره کې صرفول.

په دې سورت کې د همدې قصې په لوري اشاره شوې ده، چې الله تعالى همغه غالب قوي حکمت والا ذات دى، چې لپاره د ذليل کولو يې وويستل هغه کسان چې کافران شوي وو له اهل کتاب څخه چې يهودان د بني نضير وو له کورونو خپلو نه، چې په ځمکه د مدينې منورې کې وو، په اول د جمع کېدلو د لښکرو سره، يعنې يواځې په همغه يو يرغل سره وډار شول، او په همغې ړومبنۍ جګړې کې يې خپل کور او کلى او کلکې کلاوې ويجاړې پرېښودلې، او له مدينې څخه وتښتېدل، او هيڅ يوه مېړانه او ثابت قدمي يې له ځانه ورښکاره نه کړه.

مَا ظَنَنتُمْ أَن يَخْرُجُوا وَظَنُّوا أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمْ حُصُونُهُم مِّنَ اللَّهِ فَأَتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوا وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ

ګمان نه کاوه تاسې (اى مؤمنانو) چې وبه وځي دوی (له مدينې نه)، او ګمان کاوه دوی چې بېشکه دوی لره منع کوونکې ساتونکې دي کلاوې د دوی له (عذابه د) الله، پس راغى پر دوی (عذاب د) الله له هغه ځايه چې ګمان نه کاوه دوی، او واچوله (الله) په زړونو د دوی کې وېره.

تفسير: يعنې د هغوی د ساز او سامان، ټينګو کلاوو، او د توريالي توب او مېړانې په نسبت به ستاسې خيال داسې نه وو، چې تاسې دومره ژر به هغوی پرې کړئ، او دوی به خپلې وسلې له لاسو غورځوي، او نه د هغوی داسې خيال وو چې دا وړوکى او بې وسلې او بې سامان د مسلمانانو ټولى دوی هسې مغلوب او منکوب کړي، هغوی د غفلت په دې خوب کې تللي وو چې دا مسلمانان چې د هغوی په سر باندې د پاک الله لاس دى؛ ځمونږ تر ټينګو کلاوو پورې چېرې رسېدى شي، او ښايي چې مونږ به د خپلو ښو وسلو، او کلکو مورچلو او مېړانې په سيوري کې د الله تعالى له عذابه ساتلي يو، مګر خو هغوی وليدل چې هيڅ يو قوّت او طاقت د الله تعالى د حکم مخه نشي نيولى، پر دوی باندې د پاک الله حکم له هغې خوا راورسېد، چې له هغې خوا نه د هغوی خيال او ګمان هم نه وو، يعنې د هغوی په زړونو کې الله تعالى وېره واچوله، او د بې وسلو او بې شتو مسلمانانو ډار يې پر هغوی باندې کښود، يو خو هغوی د خپل مشر «كعب بن الأشرف» له ناڅاپي وژلو څخه ډېر مرعوب او ترهور وو، اوس نو د مسلمانانو له دې ناڅاپي حملې او يرغل ځنې يې خپل حواس بالکل له لاسه وويستل.

يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيْدِيهِمْ وَأَيْدِي الْمُؤْمِنِينَ

چې ورانول به يې کورونه خپل په لاسو خپلو سره، او په لاسو د مؤمنانو سره (چې وران کړي ځاى د پناهې او ارت شي ورته ځاى د جنګ).

تفسير: يعني د حرص، غيظ، غضب او قهر په جوش کې به يې د خپلو ودانيو ځنځيرونه، ورونه، دړې او نور شلول، ماتول، ورانول او نړول به يې، تر څو له هغو شيانو څخه چې دوی يې له خپلو ځانونو سره نشي وړی؛ مسلمانان ګټور نشي، په دې کار کې مسلمانانو هم له هغوی سره ښې مرستې کولې، يعني له يوه لوري هغوی په نړولو سره مشغول او بوخت وو، او له بل لوري مسلمانانو هم د هغوی هغه ودانۍ ورانولې، چې دوی هلته مورچل نيولی وو، که په غور سره وکتل شي؛ هغه ورانۍ او تباهۍ چې د مسلمانانو له لاسه رسېدلې وه؛ هغه هم د همدې بدبختانو د بد عهديو او شرارتونو په نتيجه کې وه.

فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ ﴿۲﴾

پس عبرت واخلئ تاسی ای خاوندانو د سترګو (عقلونو په احوالو د دوی).

تفسير: يعني خاوند د بصيرت ته په دې واقعې کې لوی عبرت دی، الله تعالی دا ورښوول چې د ظلم، کفر، شرک، او بد عهدۍ انجام څرنګه کيږي؟ او يوائې په ظاهري اسبابو باندې ډاډه کېدل او د الله تعالی له قدرت څخه غافل اوسېدل د پوهانو کار نه دی.

وَلَوْلَا أَنْ كَتَبَ اللَّهُ عَلَيْهِمُ الْجَلَاءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ ﴿۳﴾

او که نه وی ليکلی (مقرّر کړی) الله په دوی باندې وتل (فرار کول) له وطنه؛ نو خامخا په عذاب کړي به وو (الله) دوی لره په دنيا کې (په وژلو او بندي کولو سره)، او دوی لره دی په آخرت کې عذاب د اور.

تفسير: يعني د هغوی په برخه له وطنه جلا کېدل ليکلي وو، که دا يې په قسمت کې نه وی ليکلې؛ نو بله کومه دنيوي سزا به هغوی ته ورکوله کېده، او د «بني قريظه وو» په شان به وژل کېدل، لنډه يې دا چې له سزا څخه به دوی خپل ځانونه نشو بچ کولی، دا د الله تعالی حکمت دی چې د وژلو په ځای د هغوی په جلا وطنۍ سره اکتفاء وشوه، مګر خو دا تخفيف يوائې د هغوی په دنيوي سزا کې شوی دی، ځکه چې د آخرت ابدي سزا په هيڅ ډول سره له کافرانو ځنې نه کميږي.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ وَمَنْ يُشَاقِّ اللَّهَ فَإِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿۴﴾

دغه (تعذيب د دوی) په سبب د دې وو چې بېشکه وو دوی چې مخالفت به يې کاوه له الله او له رسول د دغه (الله) سره، او هر هغه چې مخالفت کوي له الله څخه؛ نو بېشکه شديد سخت دی عذاب د الله.

تفسير: يعني داسې مخالفانو ته همداسې سختې سزاګانې ورکولی کيږي.

مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَىٰ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللَّهِ

هغه چې پرې کوئ تاسې له تنو د ونو د (کم اصلو) خرماوو څخه، يا يې پرېږدئ هغه ولاړې په ېبخونو خپلو باندې؛ نو دغه (ټول) په اذن حکم د الله سره دي.

تفسير: کله چې دا قوم کلابند شو، نو رسول الله مبارک صلی الله عليه وسلم اجازه وفرمايله چې د هغوی ځينې کم اصلې ونې دې پرې کړی شي !، او هغه باغونه دې ويجاړ شي چې دوی د هغو تر شا پر مسلمانانو ګزارونه کوي،

تر څو چې د هغو د درد لامله په بهر وتلو باندې مجبور شي، او په ډګر کې وجنګيږي، او د ډګر د جګړې په وخت کې له ونو څخه غازيانو ته څه ربړ او تکليف ورپېښ نه شي، د دې امر په سبب ځينې ونې ووهلی شوې، او ځينې يې پاتې شوې، تر څو له بري څخه وروسته د مسلمانانو په ښه ورشي، کافرانو په داسې طعنه ورکولو باندې شروع وکړه، چې دوی خلقو ته پندونه ورکوي چې له فساده ځانونه وژغورئ، مګر دوی پخپله فساد کوي، آيا د ونو پرې کول او سوځول فساد نه دی؟ نو ځکه دا آيت نازل شو، چې دا ګردې چارې د الله تعالى أجلّ وأعلى شأنُه په اذن او حکم سره سمې شوې دي، او د الله تعالى د حکم تعميل ته هيڅ کله هيڅوک فساد نشي ويلی، ځکه چې هغه په ژورو حکمتونو او مصلحتونو باندې مشتمل وي، لکه چې د دې حکم ځينې حکمتونه او مصالح پاس وليکل شول.

وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ ۝۵

او (بل لپاره د دې دي) چې رسوا کړي (الله) فاسقانو نافرمانانو (يهوديانو) لره.

تفسير: يعنې چې مسلمانانو ته عزت ورکړي، او کافران خوار او سپک کړي، لکه هغه ونې چې پاتې وې؛ په هغو کې د مسلمانانو ګټې او د کافرانو غيظ او خفګان وو، ځکه چې هغوی به د دې پاتې ونو له کتلو څخه ويل چې: دا ونې به د مسلمانانو شي، او هغوی به له دې ځنې ګټې اخلي، او هغه ونې چې پرې شوي يا سوځولی شوي دي؛ په هغو کې د مسلمانانو بری وو، چې د غلبې د آثارو ظهور، او د کفّارو هسې غيظ او غضب منظور وو، چې مسلمانان ځمونږ په شيانو کې څرنګه تصرّفات کوي؟ نو ځکه دواړه امور جائز او په حکمت باندې مشتمل دي.

وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ فَمَآ اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۶

او هغه مال چې راګرځولی دی الله په رسول خپل باندې له مالونو د دوی، پس نه وو ځغلولی تاسې پر دوی هيڅ اس او نه هيڅ اوښ، ليکن الله مسلّطوي بری ورکوي رسولانو خپلو ته پر هغه چا باندې چې اراده وفرمايي، او الله پر هر څيز باندې ښه قادر دی.

تفسير: شاه صاحب ليکي: «په غنيمت او فيء کې همدا فرق او توپير شته، هغه مال چې د جګړې او د جنګ په ډګر کې په لاس راځي؛ هغه غنيمت دی، چې د هغه پنځمه برخه د الله تعالى نذر دی، چې د هغه تفصيل د لسمې پارې په شروع کې تېر شوی دی، او نورې څلور برخې يې پر لښکرو باندې ويشلی کيږي، او هغه شيان چې بې له جنګه په لاس راځي؛ هغه د ټولو مسلمانانو په خزانو کې ايښودل کيږي، او د هغوی په عامّو مصالحو او ضروري کارونو کې لګول کيږي.

مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ

هغه شی چې راګرځولی دی الله پر رسول خپل باندې له (مالونو د) اهل د قريو کلیو (بې له جنګه)؛ نو (هغه) دی الله لره، او رسول (د الله) لره.

تفسير: په ړومبنيو آيتونو کې يواځې د بني نضيرو د مالونو د لګولو ذکر وو، اوس د «فيء» د مالونو په نسبت عمومي ضابطه راښيي، يعنې په «فيء» باندې د رسول الله صلى الله عليه وسلم، او وروسته له دوی څخه د امام قبضه او تصرّف وي، چې پر دغو خلقو يې وويشي، د الله تعالى ذکر دلته تبرّکا شوی دی، ځکه چې دی د ګردو شيانو مالک دی، هو ! د کعبې شريفې او د مساجدو صرفيات چې د الله تعالى په نامه يادېږي، ممکن دي چې په کې درج وي.

وَلِذِي الْقُرْبَىٰ

او (دغه اموال دي) خپلوانو د رسول (الله) لره.

تفسير: يعنې د رسول الله صلى الله عليه وسّلم خپلوانو څرنګه چې د نبي کريم په زمان کې له دې مالونو څخه هغوی ته ورکول کېدل، او په هغوی کې د فقر او مسکنت قيد هم نه وو، لکه چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم خپل تره عبّاس رضي الله تعالى عنه ته چې يو بلهاي (غني مشر) وو برخه ورکړه، اوس هم وروسته له دوی څخه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم خپلوانو ته چې اړ او محتاج وي؛ پر نورو اړو او محتاجانو باندې ترجيح ورکوله کيږي، او ښايي چې امام هغوی ته پخوا له نورو څخه په مخکې برخه ورکړي.

وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ ۙ كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنكُمْ ۚ

او (دغه اموال دي) يتيمانو لره او مسکينانو لره او مسافرانو لره، (مقرر کړی دی الله دا قسمت) لپاره د دې چې ونه ګرځي (دغه اموال) دولت په منځ د غنيانو کې له تاسې څخه (چې له خپله حقه زيات واخلي او فقراوو ته لږ ورکړي).

تفسير: يعنې دا مصارف ځکه راښوولي شوي دي، چې مسلمانان تل د پلار مړيو، اړو، بېکسانو او عامو مسلمانانو په پالنه او پوښتنه کې متوجه اوسي !، او تل د اسلامي عمومي ضروریاتو او مصالحو ته خيال ولري، ځکه چې داسې مالونه د بلهايانو او دولتمندانو راکړه ورکړه او نورو ګټو لپاره نه دي، او نه ښايي چې هغه د هغوی د مخصوص جايداد په منزله وګرځي، او يوائې بلهايان پرې مزې وکړي، او خوندونه ترې واخلي، او غريبان او اکربان له لوږې څخه ومري، يا عمومي مصالح خراب او ويجاړ پراته وي.

وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ۝٧

او هغه څه چې درکړي تاسې ته رسول (د الله)؛ نو وايې خلئ، ويې نيسئ، قبول يې کړئ !، او هغه څه چې منع کوي (رسول الله) تاسې له هغه څخه؛ نو ببرته شئ ترې (مه يې غواړئ !)، او وويرږئ له (عذاب د) الله په ځان ساتلو له معاصيو، بېشکه الله سخت دی عذاب (د ده).

تفسير: يعنې مال او جايداد او نور چې سم د پيغمبر صلى الله عليه وسلم له امر سره تقسيميږي؛ هغه د تقسيم امر دې په ډېرې خوښۍ سره ومنلی شي !، هغه چې دررسيږي؛ هغه په خوښۍ سره واخلئ !، او هغه ته چې ورنه کړ شي؛ هغه دې لاس واخلي !، همداسې د ګردو احکامو او نواهيو منل او پابندي په کار ده.

ځکه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نافرماني د الله تعالى نافرماني ده، او وويرږئ که چېرې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د نافرمانۍ لامله الله تعالى له تاسې څخه ناراضه نشي، او سخت عذاب په تاسې مسلّط ونه فرمايي.

لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا وَيَنصُرُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ ۝٨

(دغه اموال دي) لپاره د فقيرانو هجرت کوونکيو (هغه مهاجران) چې ايستلی شوي دي دوی له کورونو، کليو خپلو څخه، او له اموالو خپلو څخه، په دې حال کې چې طلبوي دوی فضل بښنه مهرباني له الله او رضا (د ده)، او مرسته کوي له الله او له رسول د دغه (الله) سره (په نفسونو او مالونو خپلو سره)، دغه (مهاجران) همدوی دي صادقان رښتيني (په ايمان او جهاد کې).

تفسير: يعني هسې خو په دې مال پورې د ګردو مسلمانانو حوائج او ضروريات تعلّق او اړه لري، مګر په خصوصي ډول سره د ځان قربانوونکو او ايثار خوښوونکيو رښتينو مسلمانانو حق مقدم او وړاندې دی، چې هغوی يواځې د الله تعالی په خوښې او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په محبّت او اطاعت له خپلو کورونو او مالونو او شتو څخه لاس وينځلی دی، او بالکل په تش لاس له خپل هېواده راوتلي دي، تر څو د الله تعالی او د هغه د رسول الله په کارونو کې په زړه پورې پخپل سر او آزاد کار وکړی شي، او هغه ته په ښه ډول مرسته ورسوي.

وَالَّذِينَ تَبَوَّءُو الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِن قَبْلِهِمْ

او هغو (انصارو لره دي دغه اموال) چې ځای يې نيولی دی په (دې) کور (مدينه) کې، او (خالص کړی يې دی خپل) ايمان پخوا له دغو (مهاجرانو) څخه.

تفسير: له دې کور څخه مدينه طيّبه مراده ده، او دا خلق د مدينې منورې انصار دي، چې د مهاجرينو له راتګه وړاندې يې په مدينې منورې کې هستوګنه لرله، او د ايمان په لارو کې زيات مضبوط او مستقيم شوي وو.

يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ

خوښوي محبت کوي دوی له هغه چا سره چې هجرت يې کړی دی دوی ته.

تفسير: يعني په مينه او محبت سره د مهاجرينو خدمت کوي، تر دې چې پخپلو مالونو او شتو کې يې هغوی ته برابره برخه ورکړې ده، او د هغوی په شريک ګرځولو کې يې خپل ځانونه تيار کړي دي.

وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِّمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ

او نه مومي دوی په زړونو سينو خپلو کې څه تنګي (حسد) له هغه شي څخه چې ورکړی شوي وي (مهاجرانو لره)، او غوره کوي (مهاجران) مقدّموي يې پر خپلو ځانونو او اګر که وي پر دوی باندې تنګي.

تفسير: يعني مهاجرينو ته هغه فضل او شرف چې الله تعالی عطا فرمايلی دی، يا د فيء په مالونو او نورو کې هغه برخه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هغو ته عطا فرمايي؛ د هغوی له ليدلو څخه د انصارو زړونه نه خفه کيږي، او په هغوی باندې کينه او حسد نه کوي، بلکه پرې خوښيږي، او په هر څيز کې هغوی پخپلو ځانونو باندې وړاندې ګڼي، پخپله دغه انصاريان مصاعب، متاعب، سختياوې او ربړونه وچتوي، او په لوړه يې تېروي، مګر هغوی ته هرومرو څه نه څه ورسوي، داسې بې مثله او بې ساری ايثار په دنيا کې تر اوسه پورې هيڅ قوم د بل قوم لپاره نه دی کړی.

وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ

او هر هغه څوک چې وساتلی شي له بخل د نفس د ده نه؛ نو همدغه کسان دي همدوی مراد موندونکي په مراد رسيدلي.

تفسير: يعني ډېر بريالي او کامياب دي، هغه قوم چې د الله تعالی په توفيق او لاس نيوي د هغوی په زړونو باندې طمع، حرص او بخل هيڅ اغېزه نشي اچولی، ځکه چې طمّاع او بخيلان کله خپلو نورو وروڼو ته څه ايثار او ګټه رسولی شي؟ او د نورو په خوښې او هوسايي باندې کله خوښيږي؟.

وَالَّذِينَ جَآءُو مِنۢ بَعۡدِهِمۡ

او (اموال) هغو (کسانو لره دي) چې راغلي دي راځي وروسته له دغو (مهاجرو او انصارو) نه.

تفسير: يعنې هغه کسان چې له مهاجرينو او انصارو څخه وروسته د وجود په عالم کې راځي، يا وروسته له دوی څخه د اسلام په حلقه کې داخليږي، يا له وړاندنيو مهاجرينو ځنې وروسته يې هجرت کړی مدينې منورې ته راغلي دي، او غوره ړومبنی قول دی.

يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا وَلِإِخۡوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَا تَجۡعَلۡ فِي قُلُوبِنَا غِلّٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٞ رَّحِيمٌ ١٠

وايي دوی چې: ای ربه ځمونږ ! مغفرت وکړه مونږ ته او هغو (ديني) وروڼو ځمونږ ته چې ړومبی داخل شوي دي (له مونږ څخه) په ايمان کې، او مه ګرځوه په زړونو ځمونږ کې بغض او کينه د هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی دی، بېشکه ته (يا الله) ښه مهرباني کوونکی خورا رحم کوونکی يې.

تفسير: يعنې دغه اخلاف او وروستني کسان هغو اسلافو او سابقينو وړاندنيو ته د ښنې دعاء کوي، او د خپل هيڅ يو مسلمان ورور په نسبت بغض او کينه په خپل زړه کې نه لري، امام مالک (رحمه الله) له همدې ځايه فرمايي: «هغه سړی چې د صحابه وو په نسبت بغض او کينه ولري، او د هغوی بدګويي وکړي؛ هغه لره د (فيء) په مال کې هيڅ يوه برخه نشته».

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نَافَقُواْ يَقُولُونَ لِإِخۡوَٰنِهِمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَئِنۡ أُخۡرِجۡتُمۡ لَنَخۡرُجَنَّ مَعَكُمۡ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمۡ أَحَدًا أَبَدٗا وَإِن قُوتِلۡتُمۡ لَنَنصُرَنَّكُمۡ

آيا نه ګورې ته هغو کسانو ته چې منافقان دغابازان شوي دي، وايي هغوی هغو وروڼو خپلو (يهودانو) ته چې کافران شوي دي له اهل د کتابونو: قسم دی که خامخا وويستل شئ تاسې (له مدينې څخه)؛ نو خامخا وبه وځو مونږ هرومرو له تاسې سره، او نه به منو (خبره په ضرر د تاسې کې) د هيڅا هيڅکله، او که چېرې جنګ شروع کړ شي له تاسې سره؛ نوخامخا مدد به وکړو مونږ هرومرو له تاسې سره.

تفسير: عبد الله بن أبيّ او نورو منافقانو د بني نضير يهودانو ته پيغام او پټه خبره ورلېږلې وه، چې تاسې مه ويرېږئ، او خپل ځانونه يواځې مه ګڼئ، که مسلمانان غواړي چې تاسې له مدينې څخه وباسي؛ نو مونږ به له تاسې سره درېږو، که د جنګ او جګړې وار ورسېد؛ نو مونږ به له تاسې سره مرسته کوو، دا ځمونږ قطعي او ناګرځېدونکې ټينګه فيصله او پرېکړه ده، او پرته له دې څخه مونږ ستاسې په جنګ او جګړه کې د هيڅا خبره نه اورو، او نه د هيڅا پروا کوو.

وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ١١

او الله شاهدي ګواهي ورکوي چې بېشکه دوی خامخا دروغجنان دي (په همدغو خبرو کې).

تفسير: يعنې دغه منافقان يهودانو ته دغه خبرې له زړه څخه نه وايي، يواځې د مسلمانانو په مخالفت خلق ورپورته کوي، او هسې خبرې کوي چې هغه د مسلمانانو په ګټه نه وي، او هغه خبرې چې په ژبه وايي؛ په هغو باندې هيڅ عمل نه کوي.

لَئِنْ أُخْرِجُوا لَا يَخْرُجُونَ مَعَهُمْ وَلَئِنْ قُوتِلُوا لَا يَنْصُرُونَهُمْ

قسم دی که وویستل شي دغه (یهودان) (له کورونو خپلو نه)؛ نه وځي دغه (منافقان له هغو یهودانو) سره (له کورونو خپلو نه)، او که جنګ وکړ شي له هغو (یهودانو) سره؛ نو مرسته مدد نه کوي دغه (منافقان) هغوی سره.

تفسیر: کله چې په مدینې منورې کې جګړه ونښته، او د «بني نضیر» یهودان محصور شول، په هغه نازک حال کې هیڅ یو منافق د دوی مرستې او مدد ته ونه رسېد، په پای کې کله چې هغوی وویستل شول، دغه منافقان په دې وخت کې هم په ډېرې خوشالۍ سره پخپلو کورونو کې ناست وو.

وَلَئِنْ نَصَرُوهُمْ لَيُوَلُّنَّ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُونَ ﴿۱۲﴾

او که (اراده د) مدد مرستې وکړي دغه (منافقان) دغو (یهودانو) لره؛ خامخا وبه ګرځوي دغه (منافقان) په تښته سره شاوې خپلې، بیا به مدد مرسته ونه کړی شي له دوی سره (منافقانو یهودانو سره وروسته له ماتې).

تفسیر: یعنې که په فرض محال سره منافق د هغو یهودانو مرستې ته راغلي وی؛ نو نتیجه به څه کېده؟ پرته له دې څخه چې د مسلمانانو له مقابلې څخه بېرته وتښتي بل نتیجه نه لري، او بیا به د دوی مرسته څرنګه کېده؟ نو د دوی د مرستې لپاره به هم څوک نه رسېده.

لَأَنْتُمْ أَشَدُّ رَهْبَةً فِي صُدُورِهِمْ مِنَ اللَّهِ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَفْقَهُونَ ﴿۱۳﴾

خامخا تاسو (ای مؤمنانو) ډېر سخت یئ له جهته د وېرې په سینو زړونو د دغو (منافقانو) کې له (وېرې د) الله، دغه وېره (د منافقانو له مؤمنانو څخه) په سبب د دې ده ببشکه چې دوی (داسې) قوم دی چې نه پوهیږي (نه پېژني الله).

تفسیر: یعنې که د الله تعالی په عظمت باندې دغه منافقان پوهېدی، او د هغوی په زړونو کې د الله تعالی خوف او وېره وی؛ نو کفر او نفاق به یې ولې غوره کاوه؟ هو ! د مسلمانانو د شجاعت او مېړانې څخه ویریږي، ځکه د مسلمانانو په مقابل کې نه شي ودرېدلی، او نه د جنګ په ډګر کې له ځانه څه ثبات او توره او مېړانه ورښوولی شي.

لَا يُقَاتِلُونَكُمْ جَمِيعًا إِلَّا فِي قُرًى مُحَصَّنَةٍ أَوْ مِنْ وَرَاءِ جُدُرٍ

جنګ به ونه کړي دغه (یهودان) له تاسې سره (ای مؤمنانو) ټول په ګډه سره مګر په قریو کلیو ټینګ کړیو شویو کې، یا وروسته له دېوالونو سنګرونو څخه.

تفسیر: یعنې څرنګه چې د دې خلقو په زړونو کې د مسلمانانو وېرې او خوف ځای نیولی دی؛ نو ځکه د جنګ په ډګر کې نشي جنګېدلی، هو په کلیو او ټینګو کلاوو کې سنګرونه نیولی او جګړې کولی شي، یا که د دیوالونواو ونو او نورو شیانو تر شاوو ځانونه پټ کړي؛ نو جنګېدی شي.

بَأْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيدٌ

جنګ د دوی په منځ د دوی کې ډېر سخت دی.

تفسير: يعنې په جګړو کې چې دوی يې پخپلو منځونو کې کوي؛ ډېر تېز او ګړندي او سخت ښکاري، لکه چې پخوا له اسلامه د «اوس» او «خزرج» د جنګونو تجربه ځمونږ په مخ کې پرته ده، مګر د مسلمانانو په مقابله کې د هغوی وينه وچه، توره، پخه، ژبه بنده او مېړانه ورکه شي.

تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ﴿١٤﴾

ګمان به کوې ته په دوی چې سره يو دي (حال دا چې) زړونه د دوی سره جلا جلا دي، دا په سبب د دې دي چې بېشکه دوی داسې يو قوم دی چې نه پوهيږي.

تفسير: يعنې د مسلمانانو په مقابله کې د هغو په ظاهري اتفاق او اتحاد مه غولېږئ، د هغوی زړونه هيڅکله سره غونډ نه دي، او بالکل جلا دي، هر يو د خپل غرض او غوښتنې مين، او د هر يوه فکر او خيال بېل دی، نو ځکه د دوی په منځ کې حقيقي اتحاد او يو جهتي هيڅېږي نه پيدا کيږي، که دوی پوهه ولري؛ نو پوهېدل به چې دا نمايشي اتحاد او د ښودنې يووالی هيڅ نه پکاريږي.

كَمَثَلِ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ قَرِيبًا ذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٥﴾

مثال د دوی (په نه ايمان راوړلو کې) لکه مَثَل (قصه) د هغو کسانو دی چې وو پخوا له دوی نه په نژدې زمانه کې، چې وځکله هغوی وبال سزا د بدو چارو خپلو، او شته هغوی ته عذاب دردناک (په عُقبا کې).

تفسير: يعنې اوس په نژدې زمانې کې د «بني قينقاع» يهودانو د خپلې درغلی، خيانت، او غداری خوند ځکلی دی، کله چې هغوی بد عهدي وکړه؛ نو مسلمانانو له هغوی سره يوه مختصره جګړه ونښلوله، او وروسته د يوه وړو کي جنګ ځخه يې هغوی د باندې وشړل، او له هغه ځنې په مخ کې په قريبه ماضي کې مکيّانو هم د «بدر» په ورځ کې خپله سزا وموندله، همغسې د «بني نضيرو» انجام هم وګورئ !، چې په دنيا کې د مسلمانانو له لوري پخپل انجام او سزا ورسېدل، او دوی ته د آخرت درد رسوونکی عذاب هم هغسې چې دوی ته تاکلی شوی دی، هم ورسيږي.

كَمَثَلِ الشَّيْطَانِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَانِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦﴾ فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَا أَنَّهُمَا فِي النَّارِ خَالِدَيْنِ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الظَّالِمِينَ ﴿١٧﴾

(مثال د منافقانو په مخالفت د وعدې کې) لکه مثل (قصه) د شيطان داسې دی، کله چې وايي انسان ته چې: کافر شه !، نو کله چې (انسان) کافر شي؛ وايي (شيطان): زه بېزاره جلا يم له تا ځخه، بېشکه زه ويرېږم له الله چې رب (پالونکی) د ټولو عالميانو دی. پس دی عاقبت انجام د دواړو (ګمراه کوونکي او ګمراه شوي) داسې چې بېشکه هغوی دواړه به وي په اور (د دوزخ) کې، تل به اوسيږي دوی (دواړه) په هغه (اور د دوزخ) کې، او همدا جزاء د ظالمانو ده.

تفسير: يعنې شيطان په اول کې انسان ته د کفر او معصيت تشويق او تحضيض ورکوي، کله چې سړی د ده د اغواء په لومه او دام کې ونښلي؛ نو وايي چې: زه له تا ځخه جلا او د تا له کاره بيخي بېزاره يم، زه خو له الله تعالی ويرېږم، «دا وينا به هم د ريا او مکاری له مخې وي»، نتيجه به داسې وي چې دی به هم د دوزخ خس او بوټي دړې کيږي، او د هغه د دوزخ د لوېدلو سبب به هم ګرځي، شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «شيطان به په آخرت کې دا خبره وايي، او د «بدر» په ورځ کې يې هم د يوه کافر په شکل او بڼه نور خلق په جګړه کې اچولي وو، کله چې ستر ګې يې پر پرښتو

باندې ولګېدې؛ نو ژر وتښتېد، - لکه چې د هغه بيان د (الأنفال) په سورت کې پخوا له دې څخه ځمونږ د دغه پښتو تفسير کې تېر شوی دی- همدا مثال د منافقينو هم دی»، «هغه بني نضير» ته د خپل حمايت او رفاقت يقين ورکړی وو، او په دې چل سره يې د مخالفت ډګر ته را وويستل، کله چې هغوی په مصيبت سره اخته شول؛ دی جلا (جدا) شو، او لرې ترې کښېناست، ولې آيا هغه په دې ډول د الله تعالى له عذابه خلاصېدی شي؟ هيڅکله نه خلاصيږي، او د دواړو د هستوګنې ځای دوزخ دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلۡتَنظُرۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٖۖ

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ! وويرېږئ له (عذابه د) الله، او ښايي چې ودې ګوري هر نفس هغه شي ته چې ړومبی يې لېږلی دی لپاره د سبا (قيامت).

تفسير: يعنې ای مؤمنانو ! له الله تعالى څخه وويرېږئ !، او خپلو ځانونو ته د طاعاتو او عباداتو سرمايه ذخيره برابره کړئ، او فکر وکړئ چې سبا به څه شيان در د مخه کېدونکي وي؟ او د قيامت لويې ورځې لپاره مو څه ذخيره او ځېرمه کړې دي؟ او څه شی مو د مخه ورلېږلي دي، چې وروسته له مرګه هغه هلته در پکار شي؟.

وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٨

او وويرېږئ له الله، بېشکه چې الله ښه خبردار دی په هغو عملونو چې کوئ تاسو.

تفسير: يعنې ستاسې هيڅ يو کار له الله تعالى څخه پټ نه دی، نو ځکه له هغه الله تعالى څخه وويرېږئ !، او د تقوی او پرهېزګاری لارې غوره کړئ !، او له ګناهونو او معاصيو ځنې خپل ځانونه وژغورئ !.

وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ نَسُواْ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمۡ أَنفُسَهُمۡۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ١٩

او مه کېږئ تاسې (ای مؤمنانو !) په شان د هغو کسانو چې هېر کړی دی هغوی الله، بيا هېر کړ الله په دوی حق د نفسونو د دوی، دغه خلق همدوی دي فاسقان نافرمانان.

تفسير: يعنې هغه کسان چې د الله تعالى حقوق يې هېر کړي دي، او د هغه له ياده غافل شوي دي، او د ده د اوامرو او نواهيو هيڅ پروا نه کوي؛ نو الله تعالى هېر کړي دي په دوی باندې حق د نفسونو د دوی، چې له راتلونکيو آفتونو ځنې د ژغورنې هيڅ يو فکر او انديښنه د دوی سره نشته، او په معاصيو او نافرمانيو کې ډوب تللي دي.

لَا يَسۡتَوِيٓ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۚ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ٢٠

نه دي سره برابر (په نزد د الله) ياران ملګري د اور او ياران ملګري د جنّت، ياران ملګري د جنّت همدوی دي مراد موندونکي په مراد رسيدلي (په لقاء د الله او نعماوو د جنّت).

تفسير: يعنې ښايي چې هر سړی خپل ځان د جنّت د داخلېدو وړ وګرځوي، چې لاره يې پرته د قرآنکريم د هدايا‌تو او احکامو په مخکې له غاړې ايښودلو بل شی نه دی.

لَوۡ أَنزَلۡنَا هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ عَلَىٰ جَبَلٖ لَّرَأَيۡتَهُۥ خَٰشِعٗا مُّتَصَدِّعٗا مِّنۡ خَشۡيَةِ ٱللَّهِۚ

که نازل کړی وی مونږ (احکام د دغه) قرآن په يوه غره باندې؛ نو خامخا ليدلی به وو تا هغه (غر) ويرېدونکی فرمان منونکی ټوټې ټوټې کېدونکی له وېرې (د عذابه) د الله.

تفسير: يعني د افسوس او د حسرت ځای به وي؛ چې قرآن مجيد د انسانانو پر زړونو باندې هيڅ يو اثر او اغېزه ونه کړي، حال دا چې د قرآن شريف اثر او اغېزه دومره زبردسته او قوي ده، چې که هغه پر غرونو غوندې يو کلک شي باندې هم راښکته شوی وی، او په هغه کې د پوهېدلو داسې يوه ماده چې په انسانانو کې وي شته وی؛ نو هغه به د متکلم د عظمت په مقابل کې ويرېده، او چاودېده، او له ډاره به يې توتې توتې کېده.

وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾

او دا مثالونه بيانوو اوروو مونږ هغه خلقو ته (لپاره د دې) چې دوی فکر غور وکړي په کې.

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «يعني د کافرانو زړونه ډېر سخت دي، سره له دې چې د الله تعالى کلام اوري، خو بيا هم ايمان نه پرې راوړي، که غر د دې پاک کلام په مفهوم باندې وپوهيږي؛ نو هغه به هم له ډېرې وېرې وشليږي».

هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۖ هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴿٢٢﴾ هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ

دغه الله هغه ذات دی چې نشته بل هيڅ معبود بر حق مګر خو همدی (دی يواځې)، عالم دی په غيبو باندې، او (عالم دی) په ښکاره وو باندې، هم هغه (الله) دی خورا مهربان ډېر رحم کوونکی. دغه الله (هغه ذات دی) چې نشته بل هيڅ معبود بر حق مګر خو همدی دی، (يواځې) بادشاه دی، ښه پاک دی (له ټولو قبائحو څخه)، سالم دی (له ګردو عيوبو) څخه، امان ورکوونکی دی.

تفسير: يعني الله تعالى أجلّ وأعلى شأنُه وأعظم برهانُهُ له ګردو نقائصو او کمزرويو څخه پاک منزّه دی، او له ټولو عيوبو او آفاتو څخه سالم دی، هيڅ يوه خرابي او نقصان نه د هغه دربار ته رسېدلی دی، او نه به ورسيږي، د «مؤمن» ترجمه يې په «امان ورکوونکي» سره کړې ده، او د ځينو نورو مفسّرينو په نزد د «مصدّق» په معنى هم راغلی دی، يعني پخپل قول او فعل سره د خپلو پيغمبرانو د اقوالو او ويناوو تصديق کوونکی دی، يا د مؤمنانو په ايمان باندې د تصديق د مهر ثبت کوونکی دی.

الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ۚ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٢٣﴾

شاهد حافظ دی (په اعمالو د بندګانو)، ښه زبردست دی د وېرې خاوند دی، لوی ځېښتن دی، پاک دی ذات د الله له هغو شيانو چې (مشرکان يې) ورسره شريکوي.

تفسير: يعني د الله تعالى په ذات او صفاتو او افعالو کې هيڅوک ورسره مل او شريک نه دي.

هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ

دغه الله (هغه ذات دی) چې پيدا کوونکی دی راويستونکی دی (له عدم نه وجود ته) صورت ورکوونکی دی.

تفسير: د (خالق) او د (باري) د فرق په نسبت مو د بني اسرائيل په سورت کې د دې آيت د تفاسيرو په ضمن کې څه اشارې کړې دي، ځمونږ دغه مبارک تفسير بيا ولولئ !.

«المصوّر» صورت جوړوونکی، لکه چې په نطفه باندې يې د انسان تصوير جوړ کړی دی.

لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ ۚ

همدغه (الله) لره دي نومونه نېک (ډير ښائسته) عمده مخصوص.

تفسير: يعنې هغه نومونه چې په اعلى درجه په ښه والي او کمالاتو او صفاتو باندې دلالت کوي.

يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ

په پاکۍ سره يادوي هغه (الله) لره هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي، او (هر هغه څه چې په) ځمکه کې دي.

تفسير: يعنې د قال يا د حال په ژبه سره چې په هغه باندې مونږ او تاسې نه پوهيږو.

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٢٤﴾

او همدغه (الله) ښه غالب دی ښه حکمت والا دی.

تمّت سورة الحشر بمنّه وكرمه، فلله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الْمُمْتَحَنَةِ

«د (الممتحنة) سورت مدني دی، (۱۳) آیتونه او دوه رکوع لري، په تلاوت کې (۶۰) او په نزول کې (۹۱) سورت دی، وروسته د (الأحزاب) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

ځمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم په «حُدیبیې» کې له مکیانو سره روغه وفرمایله، چې د هغې ذکر ځمونږ د دغه پښتو تفسیر د (الفتح) په سورت کې پخوا له دې نه تېر شوی دی، تر دوو کلونو پورې دا روغه قائمه وه، بیا د کافرانو له لوري هغه ماته شوه، نو دلته رسول الله صلی الله علیه وسلم د حربي له اصولو سره سم په پټه خوله افواج ټولول، او د مکې معظمې د بري فتح لپاره یې ترتیبات نیول، د خبرو اترو او لیکونو په لړلو باندې یې ممانعت او بندشونه کښوول، چې تر څو د مکې معظمې کافران د دوی له دې تیاري څخه خبر نشي، او هغوی هم د جګړې لپاره ځانونه تیار نه کړي، او په دې ډول سره په حرم شریف کې د جګړې مخه ونیوه شي، یوه مسلمان چې «حاطب بن أبي بلتعه» رضي الله تعالى عنه نومیده، او د «بدر» له مهاجرینو څخه وو، مکیانو ته یې یو لیک ورولېږه چې: «د محمد صلی الله علیه وسلم لښکر پر تاسې باندې لکه د شپې تیاره یا د لوی سیلاو د اوبو په شان درتلونکی دی» دا خبره رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ته د وحي په وسیله ورښکاره شوه، دوی علي «رضي الله تعالى عنه» او څو نورو اصحابو ته امر ورکړ چې یوه ښځه د مکې شریفې په لوري روانه ده، تاسې ورپسې ورشئ، تاسې به له هغې سره په فلاني ځای کې مخامخ کېږئ، له هغې سره یو لیک دی؛ هغه ورڅخې واخلئ !، او له ځان سره یې راوړئ، دا أصحاب په تلوار روان شول، او هغه ښځه یې په همغه ځای کې ومونډله، هغې ښځې ډېر «لیت او لعلّ» او وړاندې او وروسته وکړ، خو سره له هغه هم همغه لیک (خط) یې وروسپاره، چې د هغه له لوستلو څخه دا خبره ښکاره شوه چې د «حاطب بن أبي بلتعه» رضي الله تعالى عنه له لوري د مکې معظمې د کافرانو په نامه لیکلی شوی دی، او هغوی ته یې د مسلمانانو د تعرّض اطلاع ورلېږلې ده، ځمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم «حاطب بن أبي بلتعه» رضي الله تعالى عنه راوباله، او ترې یې وپوښتل چې: دا څرنګه یو حرکت دی؟ ده وویل: یا رسول الله ! نه زه کافر یم، او نه مې له اسلامه مخ اړولی دی، رښتیا خبره خو دا ده چې ځما کور او کهول په مکه معظمه کې دی، او هلته د هغوی ساتونکي او پالونکي هیڅوک نشته؛ نو مې غوښتل چې پر کافرانو باندې خپل یو احسان واړوم تر څو هغوی د هغه په معاوضه کې ځما له اهل او عیال سره څه غرض ونه لري، بلکه له هغوی سره څه ښېګڼې هم وکړي، زه پوهېږم چې له دې څخه ماته ډېره ګټه (فائده) رارسېږي، خو اسلام او مسلمانانو ته له هغه ځني هیڅ یو ضرر نه رسېږي، هغه د فتح او نصرت وعدې چې تاسې ته د الله تعالى له لوري شوي دي؛ هغه په یقیني ډول سره پای (آخر) ته رسېدونکي دي، او د هغو مخه هیڅوک نشي نیولی، لکه چې د ده د هغه خط په منځ کې همدا مضمون لیکلی شوی وو: قسم په الله که رسول الله صلی الله علیه وسلم یواځې هم پر تاسې باندې حمله وکړي؛ نو الله تعالى به ورته مدد ورکوي، او هغه وعدې چې له هغه سره شوي دي؛ خامخا پوره کېدونکي دي.

بلا شُبهه د «حاطب بن أبي بلتعه» رضي الله تعالى عنه څخه دا غټه خطايي شوې ده، خو «رحمة للعالمين» وفرمايل: «لا تقولوا له إلا خيرا» «مه وايئ ورته هيڅ شی پرته له خيره» او ويې فرمايل: «چې حاطب د «بدر» د اصحابو څخه دی، او تاسې ته نه دي معلوم چې الله تعالى د «بدر» د اصحابو ګرد ګناهونه بښلي دي»، د دې سورت زياتره برخه همدې قصې لره نيوونکې ده، لکه چې الله أجل وأعلى شأنُه وأعظم برهانُهُ داسې فرمايي چې:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَآءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُواْ بِمَا جَآءَكُم مِّنَ ٱلْحَقِّ

ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی ! مه نيسئ تاسې دښمنان ځما او دښمنان خپل دوستان په دغه حال کې چې غورځوئ لېږئ تاسې خبرونه هغوی ته په سبب د دوستۍ سره (په منځ ستاسې او د دوی کې) حال دا چې په تحقيق کافران شوي دي هغوی په هغه شي چې راغلی دی تاسې ته له حق (دين او قرآن) څخه.

تفسير: يعنې د مکّې کافران هم د الله تعالى جل جلاله دښمنان دي او هم ستاسې، نو له هغوی سره دوستي مه کوئ !، او هغوی ته دوستانه پيغامونه لېږل مسلمانانو لره ښه نه دي، او په تحقيق کافران شوي دي هغوی په هغه څه چې راغلی دی تاسې ته له حق دين څخه، نو د دې لامله د الله تعالى دښمنان شول.

يُخْرِجُونَ ٱلرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ أَن تُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ رَبِّكُمْ

چې وباسي دوی رسول (د الله) او هم تاسې (له خپل وطن مکې څخه ځکه) چې ايمان راوړی دی تاسې په الله چې رب ستاسې دی.

تفسير: يعنې پيغمبر ته او تاسې ته يې څنګه ربړونه او زحمتونه درورسول، او تاسې يې د خپل هېواد او وطن په پرېښوولو باندې اړ کړئ، يوائې په همدې خبره سره چې تاسې ولې د يوه الله تعالى چې ستاسې او د ګردو (ټولو) مخلوقاتو پرودګار دی؛ عبادت کوئ؟ نو له دې څخه به لويه دښمني او عداوت څه وي؟ د تعجّب ځای دی چې تاسې له داسې سړيو سره دوستي کوئ؟ او د خپلوی لاسونه وروړاندې کوئ؟.

إِن كُنتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَٰدًا فِى سَبِيلِى وَٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِى

که چېرې يئ تاسې چې راوتلي يئ تاسې (له اوطانو خپلو) لپاره د جهاد جنګ په لاره ځما کې، او لپاره د رضا خوښی غوښتلو ځما.

تفسير: يعنې که ستاسې له کوره وتل ځما د خوښی لپاره او ځما په لاره کې د جهاد لپاره وي، او خاص ځما د رضا لپاره تاسې نور د خپلو ځانونو دښمنان کوئ؛ نو بيا په هغې دښمنی کې د دوستی ارتباط د څه لپاره دی؟ آيا د هغو کسانو په ناراضی چې تاسې د الله تعالى رضا ګټلې وه، اوس غواړئ چې هغوی له خپلو ځانونو ځنې رضا او خوښ او الله تعالى ناراض کړئ؟ (العياذ بالله).

تُسِرُّونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ وَأَنَا۠ أَعْلَمُ بِمَآ أَخْفَيْتُمْ وَمَآ أَعْلَنتُمْ

چې په پټه (خبرې) لېږئ تاسې هغوی ته په (سبب د) دوستی سره، او زه ښه عالم يم په هغه څه چې پټوئ تاسې، او په هغه څه چې ښکاروئ تاسې.

تفسير: يعنې که يو سړی وغواړي چې يو کار له ځردو خلقو او نړيوالو څخه په پټه اجرا کړي؛ نو آيا هغه له الله تعالى څخه هم پټولی شي؟ وګورئ چې «حاطب بن أبي بلتعه» رضي الله تعالى عنه څومره زيار وکړ، او کوښښ يې وکړ چې د خپل ليک اطلاع هيڅا ته ورنه کړي، خو الله تعالى له هغه څخه خپل رسول خبردار کړ، او دغه پټه خبره پخوا له وخته ورڅرګنده شوه.

وَمَنْ يَّفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ①

او هر څوک چې وکړي دغه (کار) له تاسې څخه؛ نو په تحقيق ورکه کړې يې ده سمه صافه لاره.

تفسير: يعنې که سړه له مسلمانې داسې کار وکړي، او داسې يو وګڼي چې دی به د هغه په پټو ساتلو کې بری وموميږ؛ نو سخته غلطي او زيات تېروالته کوي.

اِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ يَكُوْنُوْا لَكُمْ اَعْدَآءً وَّيَبْسُطُوْٓا اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ وَاَلْسِنَتَهُمْ بِالسُّوْٓءِ وَوَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ ②

که چېرې ظفر بری وموميږ (کفّار) په تاسې باندې (نو) شي به دوی تاسې لره دښمنان، او اوږده به کړي تاسې ته لاسونه خپل (په وهلو او وژلو د تاسې)، او (اوږدې به کړي) ژبې خپلې په بدۍ (ويلو د تاسې) سره، او خوښوي به دوی (دغه) چې کافران شئ تاسې (لکه چې دوی دي).

تفسير: يعنې له دې کافرانو څخه په موجوده حالت کې څه هيله او اسره مه لرئ !، که څه هم تاسې زياته پېرزوينه او رواداري پر هغوی باندې وکړئ، او د دوستۍ اظهار وکړئ؛ هغوی هيڅکله د مسلمانانو خير غوښتونکي نشي کېدی، او سره له دې انتهايي رواداريو که د هغوی لاسونه پر تاسې باندې بر شي؛ نو له هيڅ راز خرابۍ او دښمنۍ ځنې خپل ځانونه نه منع کوي، په ژبو او لاسو سره هر ډول ضررونه او ايذاوې تاسې ته دررسوي، او داسې غواړي هم هغسې چې هغوی له صداقته منکران دي؛ تاسې هم منکران کړي، نو آيا داسې شريران او بد باطنان د دې خبرې وړ دي چې هغوی ته هسې پيغامونه ولېږل شي؟.

لَنْ تَنْفَعَكُمْ اَرْحَامُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ ۚ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ③

له سره به نفع در ونه رسوي تاسې ته (که کافران شئ) خپلوي ستاسې، او نه اولاد ستاسې په ورځې د قيامت کې فيصله به وکړي (الله) په منځ ستاسې کې، او الله په هغو عملونو چې کوئ يې تاسې ښه ليدونکی دی.

تفسير: حاطب رضي الله تعالى عنه هغه خط د خپل اهل او عيال لپاره ليکلی وو، نو په دې باندې داسې تنبيه فرمايي چې اولاد او خپلوان د قيامت په ورځ هيڅ نه پکاريږي، الله تعالى د هر يوه سړي اعمال تر ذرې ذرې پورې هم ګوري، او سم له هغه سره فيصله او پرېکړه کوي، د الله تعالى دا فيصله هيڅ يو ځوی، لمسی، کړوسی خپل، خپلوان او عزيزان نشي ماتولی، نو بيا دا کومه عقلمندي ده چې يو مسلمان د خپل اهل او عيال لپاره الله تعالى له خپل ځان څخه نارضا کړي، په ياد يې ولرئ چې له هر شي څخه د الله تعالى رضامندي او خوښي وړاندې ده، که دی له مونږ څخه راضي وي؛ نو د هغه په فضل او کرم سره ځرد کارونه ښه کيږي، او که الله تعالى نارضا شي؛ نو هيڅ شی نه پکاريږي.

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ ۚ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ

په تحقيق شته تاسې لره (ای مؤمنانو !) طريقه ښه (چې اقتداء پسې کولی شئ) په (قول او فعل) د ابراهيم کې او په (قول ـ فعل د) هغه چا کې چې ده سره وو (له مؤمنانو)، کله چې وويل (دغه ابراهيم او اتباعو يې مشرکانو د) قوم د دوی ته چې: بېشکه مونږ جلا بېزاره يو له تاسې څخه، او (بېزاره يو) له هغه څيزه چې عبادت يې کوئ تاسې بې له الله، منکران شوي يو مونږ (په باطل دين) ستاسې باندې، او ښکاره شوی دی په منځ ځمونږ او ستاسې کې عداوت، دښمني او بغض حسد ابدي همېشه، تر هغه پورې چې ايمان راوړئ په الله باندې يوائې (چې واحد لا شريک دی).

تفسير: يعنې هغه کسان چې سره له اسلامه د ابراهيم (عليه وعلى نبيّنا أفضل الصلاة والسلام) سره ملګري شوي دي، هر يوه په خپل وخت کې په خپلو فعلونو او قولونو سره له هغو کفارو څخې د بېزارۍ او بېلتون اعلان کړی دی، او ابراهيم عليه السلام سره له نورو مؤمنانو اتباعو خپلو هغو مشرکانو د قوم خپل ته وويل چې: په تحقيق سره مونږ بېزاره يو له تاسې څخه، او بېزاره يو له هغه شي څخه چې عبادت يې کوئ تاسې بې له الله چې بُتان دي، او کافر شوي يو مونږ په دين يا په معبود ستاسو باندې، يعنې تاسې ای کفارو څرنګه چې له الله تعالى څخه منکران يئ، او د الله تعالى د احکامو پروا نه کوئ؛ نو مونږ هم ستاسې له طريقې څخه منکران يو، او د يوې ذرې په مېچ هم ستاسې فکر او پروا نه کوو، او ښکاره شوی دی په منځ ځمونږ او ستاسې کې عداوت، دښمني او بغض کينه همېشه تل تر هغه پورې چې ايمان راوړئ تاسې په الله تعالى باندې يوائې، يعنې دا دښمني به هلته پای ته رسيږي چې تاسې شرک او کفر پرېږدئ، او د همغه يوه مالک الملک والملکوت أکرم شأنُه وأعظم برهانُهُ هسې بندګان او چوپړان شئ لکه چې مونږ يې هم بندګان او تابعان يو.

إِلَّا قَوْلَ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَا أَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ ۖ

مګر خو (اقتداء مه کوئ د) يوې خبرې د ابراهيم (چې ويلي يې وو پخوا له منع کيدلو) پلار خپل ته (داسې) چې خامخا زه بخښنه غواړم هرومرو (خامخا) د تا لپاره، او مالک نه يم زه تا لره له عذابه د الله د هيڅ څيز.

تفسير: يعنې يوائې دعا کولی شم، د کومې ګټې او نقصان مالک نه يم، الله تعالى هر څه چې وکړي کولی يې شي، او د هغه مخه هيڅوک نشي نيولی، شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «يعنې ابراهيم عليه السلام هجرت وکړ، او بيا يې خپل تبر ته مخ ونه ګرځاوه، نو آيا تاسې به هم همغسې کوئ؟ يو خو ابراهيم عليه السلام کله چې دا خبره ورمعلومه نه وه خپل پلار ته يې دعا وکړه، او هر کله چې دا خبر ورمعلومه شوه چې مشرکان له غُفران څخه محروم دي؛ نو چپ شو، اوس چې هغه خبره تاسې ته ښکاره شوه؛ نو ځکه د کافرانو ښښنه مه غواړئ !».

او ويل ابراهيم عليه السلام او اتباعو يې داسې چې:

رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ۝

ای ربه ځمونږ (خاص) په تا باندې توکّل کړی دی مونږ او (خاص تاته) رجوع کړې ده مونږ، او (خاص) تاته بېرته ګرځېدل د ګردو دي (په آخرت کې لپاره د جزاء).

تفسير: يعنې ګرد مو پرېښوول، او تاته مو هيله وکړه، او د خپل له قوم او له ټبر څخه مو پرېکړه وکړه، او له تا سره مو خپل علاقه ونښلوله، او تاته مو رجوع وکړه، او په دې باندې پوهيږو، چې د ګردو ورتګ ستا په لوري دی.

رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا ۚ إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٥﴾

(وويل ابراهيم او اتباعو د ده) ای ربه ځمونږ ! مه ګرځوه ته مونږه فتنه ځای د ازمويلو هغو کسانو لره چې کافران شوي دي، او ښښنه وکړه مونږ لره ای ربه ځمونږ، ښېشکه هم ته يې ښه غالب قوي ښه حکمت والا.

تفسير: يعنې مونږ د کافرانو لپاره فتنه او د ازمويښت محل د مشق تخته مه ګرځوه !، او مونږ پخپل فضل او کرم سره په دغسې حالت کې وساته، چې د هغو له ليدلو څخه کافران خوښ نشي، او پر اسلام او مسلمانانو باندې د تمسخر او استهزاء غږونه وکړي، او ځمونږ په مقابل کې په خپل حقانيت باندې استدلال وکړي، ښېشکه هم ته يې ښه غالب قوي په انفاذ د احکامو ښه حکمت والا چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي، يعنې ځمونږ تقصيرات او کوتاهي وښښه، او را معاف يې کړه، ستا د زبردست قوّت او حکمت څخه همدا هيله او توقّع ده، چې خپل وفا لرونکي بندګان د دښمنانو په مقابل کې مقهور او مغلوب مه کړې، اوس لپاره د ازدياد د حرص په اقتداء د ابراهيم عليه السلام کې الله أكرمَ شأنُه وأعظم برهانُه داسې ارشاد فرمايي:

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيهِمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ ۚ وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٦﴾

خامخا په تحقيق ده تاسې لره (ای مؤمنانو) په دغو (خبرو د ابراهيم او اتباعو د ده) کې طريقه حسنه ښه (چې اقتداء پسې کوئ، او دا اقتداء ده) هغه چا لره چې وي چې اميد لري د الله، او ويريږي د ورځې آخرې (د قيامت)، او هر هغه څوک چې مخ وګرځوي د الله تعالى د احکامو څخه؛ نو بېشکه الله همغه دی غني بې پروا، ښه ستايلی شوی (په ښو صفتونو).

تفسير: يعنې تاسې مسلمانانو ته يا په بل لفظ هغو خلقو ته چې د الله تعالى د ليدلو او د آخرت د قائمېدلو هيله لرئ، د ابراهيم عليه السلام او د ده د ملګرو حسنه اسوه او نېکې طريقې غوره کول پکار دي، که څه هم ټوله دنيا تاسې ته متعصّب او جاهل ووايي، تاسې خپل مخونه د هغې لارې څخه مه اړوئ !، چې د دنيا هغه لوی موحد هغه پخپل تګ او طرز عمل سره قائم کړي، د مستقبل وخت ابدي کاميابي او بری د همدې لارې په تللو سره په لاس درتلی شي، که چې (مخالف) له دې نه لاړ شئ، او د الله تعالى له دښمنانو سره خپله دوستي ټينګه کړئ؛ نو تاسې پخپله نقصان او زيان مومئ، ځکه چې الله تعالى د هيڅوا د دوستی او دښمنی پروا نه لري، هغه پخپل ذات سره د ګردو کمالاتو او هر راز ښېګڼو مالک او څښتن دی، او هيڅ ضرر ورته نه رسيږي.

عَسَى اللَّهُ أَن يَجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِينَ عَادَيْتُم مِّنْهُم مَّوَدَّةً ۚ وَاللَّهُ قَدِيرٌ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٧﴾

ښاييږي چې الله پيدا کړي په منځ ستاسې کې او په منځ د هغو کافرانو کې چې دښمني لرئ تاسې له هغوی سره دوستي، او الله ښه قادر دی، او الله ښه مغفرت کوونکی دی، ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: يعنې د الله تعالى د قدرت او رحمت څخه بعيد نه دي، چې د نن ورځې ډېر کلک کافر سبا ښه پوخ مسلمان وګرځوي، او په دا ډول ستاسې او د هغوی په منځ کې د دوستی تعلّقات قائم شي، لکه چې د مکې معظمې په فتحه

کې همداسې وشوه، نژدې مکیان مسلمانان شول، او هغه کسان چې پرون به یې یو د بل په مخ توري وښکلې؛ نن یو پر بل باندې ځان قربانوي، په دې آیت کې مسلمانانو ته اطمینان او تسلي ورکړی شوې ده، چې د مکیّانو په مقابل کې د مسلمانانو دا د خپلوی شلول او ترک موالات او جهاد د څو ورځو له مخې مؤقتي دی، بیا به هغه ته څه اړه او ضرورت نه پاتې کیږي، او له چا ځنې چې په دې لاره څه بې اعتدالي شوي وي؛ الله تعالی د ده د هغې خطا بښونکی دی، ځکه چې همغه لوی بښونکی دی.

لَا يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ اَنْ تَبَرُّوْهُمْ وَتُقْسِطُوْٓا اِلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝

نه منع کوي تاسې (ای مؤمنانو) الله له (دوستۍ د) هغو کسانو چې نه یې دی کړی جنګ له تاسو سره په (کار د) دین کې، او نه یې ایستلي یئ له کورونو خپلو څخه (له دې نه) چې نیکي وکړئ تاسې له دوی سره، او چه عدل او انصاف وکړئ تاسې له هغوی سره، بېشکه چې الله مینه کوي له انصاف او عدل کونکو سره.

تفسیر: یعنې په مکّه معظمه کې داسې خلق هم شته، چې دوی پخپله مسلمانان شوي نه وو، خو له مسلمانانو سره یې څه ضد او مخالفت هم نه کاوه، او به یې د دین په چارو کې له هغو سره جګړې کولې، او نه به یې ربړونه ورپېښول، او نه به یې د هغوی په ایستلو کې د ظالمانو مرستې کولې، له داسې کافرانو سره له ښېګڼې او ښه سلوک کولو څخه اسلام هیڅ ممانعت نه کوي، کله چې هغوی ستاسې سره عدل او انصاف نرمي او رواداري کوي، نو د انصاف تقاضا همدا ده چې تاسې هم له هغوی سره ښه ټینګ او مناسب سلوک وکړئ، او دنیا ته وروښیئ چې د اسلامي اخلاقو معیار څومره هسک دی؟.

اِنَّمَا يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ قٰتَلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَاَخْرَجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ وَظٰهَرُوْا عَلٰٓى اِخْرَاجِكُمْ اَنْ تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝

بېشکه همدا خبره ده چې منع کوي تاسې الله له (دوستۍ د) هغو کسانو څخه چې جنګ یې کړی دی له تاسې سره په (کار د) دین کې، او چې ایستلي یې یئ له کورونو د تاسې څخه، او کومک مرستې یې کړي دي له دښمنانو ستاسې سره په ایستلو ستاسې کې، له دې څخه چې دوستي وکړئ تاسې له هغوی سره، او هر هغه چې دوستي کوي له هغوی سره؛ دغه (خلق) همدوی دي ظالمان ګنهګاران.

تفسیر: یعنې له هسې ظالمانو سره دوستانه تعلّقات قائمول بېشکه سخت ظلم او ګناه ده، (ربط) تر دې ځای پورې د کفّارو د دوو ټولیو (معاند ـ مسالم) سره د معاملې ذکر وو، وروسته له دې نه دا راښیي چې له هغو ښځو سره څه معامله وکړو چې له (دار الحرب) څخه (دار الاسلام) ته راشي؟ یا په (دار الحرب) کې هستوګنه ولري؟، خبره دا ده چې د حُدیبیې په روغه کې مکي والو داسې ټاکلي وو چې: ځمونږ هغه سړي چې د مسلمانانو په لوري راشي؛ ښایي چې هغه ببرته ولېږلی شي، لکه ځمونږ پیغمبر دا خبره منلې هم وه، او د هغه په اثر څو سړي چې مدینې منورې ته راغلي وو؛ ببرته مکې معظمې ته ولېږل شول، وروسته له هغه څخه څو ښځې هم راغلې، که دا ښځې هم ببرته لېږلې کېدې؛ نو د کافر نارینه په کور کې د مسلمانې ښځې هستوګنه له اسلامي غیرته لرې ښکارېدل، او د هغو ناسته ملاسته سره حرامه وه، نو په دې باندې دا وروستي آیتونه رانازل شو، معلومیږي چې وروسته له دې نه د ښځو په ببرته لېږلو کې کافرانو اصرار ونه کړ، او که نه هغه روغه به روغه نه پاتې کېده.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ مُهَٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ۖ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّ ۖ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی، کله چې راشي تاسې ته مؤمنانې (ښځې) هجرت کوونکې وطن پرېښودونکې؛ نو وازمویئ تاسې هغوی، الله ته ښه معلوم دی ایمان د دوی.

تفسیر: یعنې د زړونو احوال الله ته ښه معلوم دي، خو په ښکاره ډول سره تاسو د هغو ښځو تفتیش او تحقیق په ښه ډول سره وکړئ !، چې آیا په رښتیا سره مسلمانې دي؟ آیا په رښتیا د مسلمانې لامله دوی هجرت کړی دی، او خپل وطن یې پرېښی دلته راغلي دي؟ آیا کومې دنیوي یا نفساني غوښتنې د دوی د هجرت او راتګ سبب شوي دي؟ په ځینو روایتونو کې راغلي دي چې عمر رضي الله تعالی عنه به د دوی امتحان اخیستلو، او ازموینه یې کوله، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لوري به یې د هغوی بیعت اخیست، کله کله به پخپله رسول أکرم صلی الله علیه وسلم هم د دوی بیعت مانه، چې وروسته په ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ يُبَايِعْنَكَ﴾ الآیة ـ کې مذکور دی.

فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ ۖ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ ۖ وَءَاتُوهُم مَّآ أَنفَقُوا۟ ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ۚ

نو که وپېژنئ تاسې دوی (په قسم سره) مؤمنانې؛ نو بېرته مه لېږئ هغوی د کفارو طرف ته، نه دي دغه (مؤمنانې ښځې) حلالې هغو (کفارو سړیو) لره، او نه هغه (کافران) حلال دې (مؤمنو ښځو) لره، او ورکړئ تاسې (هغو کافرانو) ته (چې مېړونه د هغو ښځو دي) هغه څه چې لګولي یې دي (له مهره)، او نشته هیڅ ګناه پر تاسې باندې چې نکاح وترئ تاسې له دې ښځو سره په شرط د دې کله چې ورکړئ تاسې هغو ته مهرونه د دوی.

تفسیر: داسې حکم وشو: که له زوجینو څخه یو مسلمان او بل مشرک وي، نو د دارینو په اختلاف سره د نکاح تعلّقات قائم نه پاتې کیږي، که د کوم کافر ښځه مسلمانه شوي وي، او دار الاسلام ته راشي، هر هغه مسلمان چې د دې نکاح ترې؛ د ده په غاړه ده چې هومره مهر چې هغه کافر په دې ښځې ورکړی دی؛ هومره بېرته ورکړي، او اوس د دې ښځې مهر هر څه چې ټاکلی شوی وي؛ هغه جلا دې ښځې ته وروسپاري، نو وروسته له دې څخه د هغې ښځې سره نکاح ترلی شي.

وَلَا تُمْسِكُوا۟ بِعِصَمِ ٱلْكَوَافِرِ وَسْـَٔلُوا۟ مَآ أَنفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔلُوا۟ مَآ أَنفَقُوا۟ ۚ ذَٰلِكُمْ حُكْمُ ٱللَّهِ ۖ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾

او منګولې مه نښلوئ په عصمتونو د ښځو کافرانو (او مه یې ساتئ په نکاح خپله کې)، او وغواړئ تاسې هغه څه چې خرڅ کړي دي تاسې (پر دغو کافرانو)، او ودې غواړي (دغه کفار هم) هغه څه چې خرڅ کړي وي هغوی (له مهرونو پر دغو مهاجرانو)، (دا مذکوره احکام) حکم د الله دی، حکم کوي (الله په دغه سره) په منځ ستاسې کې، او الله ښه علم والا دی ښه حکمت والا دی.

تفسیر: د ړومبي حکم په مقابل کې وروستنی داسې حکم وشو، د هغه مسلمان سړي ښځه چې لا کافره پاتې وي؛ دغه مسلمان دې هغه ښځه پرېږدي !، بیا هر کافر چې له هغې سره نکاح وترې، د دې مسلمان لګولی شوی مهر به بېرته ورسوي، په همدې ډول هر یو له دواړو فریقینو څخه دې یو له بل ځنې خپل حق وغواړي، کله چې دا حکم راښکته شو؛ نو مسلمانان دې خبرې ته تیار شول، چې هم یې ورکړي، او هم به یې واخلي، خو کافرانو ورکول ونه منل، نو ځکه دا راتلونکی آیت رانازل شو.

وَإِنْ فَاتَكُمْ شَيْءٌ مِّنْ أَزْوَاجِكُمْ إِلَى الْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ فَآتُوا الَّذِينَ ذَهَبَتْ أَزْوَاجُهُم مِّثْلَ مَا أَنفَقُوا ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي أَنتُم بِهِ مُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾

او که چېرې فوت شي له تاسو نه (ای مؤمنانو) یو شی له ښځو ستاسې په طرف د کُفّارو؛ پس غزا مو وکړه (او غنیمت مو واخیست تاسې په غزا کې)؛ پس ورکړئ تاسې هغو کسانو ته چې تللې وي ښځې د هغوی (کفارو ته) په مثل د هغه (مهر) چې ورکړی دی دوی (هغو ښځو لره)، او وویرېږئ تاسې له الله هغه چې تاسو پر هغو باندې ایمان راوړونکي یئ.

تفسیر: یعنې که د کوم مسلمان ښځه مرتده او دار الحرب ته لاړه شي، او کافر د هغه خرڅ ېېرته نه ورکوي، نو که د کوم کافر ښځه د مسلمانانو کره راشي، د هغه هر څومره خرڅ چې کیږي؛ ښایي د هغه کافر په ځای دې مسلمان ته ورکړي چې ښځه یې کافر کره تللې ده، او حق یې سوځېدلی دی، هو ! دومره ده که د دغه مسلمان د حق له ورکولو څخه څه شی ېېرته پاتې شي؛ هغه به همغه کافر ته ورسوي !، ځینو عالمانو لیکلي دي: که کوم مسلمان د کافر خرڅ نشي ورته رسولی؛ نو هغه دې د مسلمانانو په بیت المال کې ور تحویل کړي، الله أکبر ! دا څومره د عدل، انصاف تعلیم دی !، خو په دې باندې عمل کوونکی به همغه څوک وي چې د هغه په زړه کې د الله تعالی وېره وي، او په هغه باندې پوره او کامل ایمان ولري.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَىٰ أَن لَّا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَادَهُنَّ

ای نبي ! کله چې راشي تاته مؤمنانې ښځې چې بیعت کوي له تا سره پر دې شرط چې نه به شریکوي دوی له الله سره هیڅ شی، او نه به کوي غلا دوی، او نه به کوي زنا دوی، او نه به وژني دوی اولاد خپل.

تفسیر: یعنې ای محمده ! بیعت واخله له ښځو څخه په دې خبره چې نه به شریکوي دوی له الله تعالی سره هیڅ څیز، او غلا به نه کوي، او زنا به نه کوي، او نه به وژني اولاد خپل لکه چې د جاهلیت په زمانه کې رواج وو، د معمولي ننګ او عار لامله به یې جونې ژوندۍ په هدیرو کې خښولې، او په ځینو وختونو کې به یې د لوېږې له وېرې هم خپل اولاد واژه.

وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَانٍ يَفْتَرِينَهُ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ

او نه به راتله کړي په دروغو سره چې جوړوي یې دوی په منځ د لاسو او پښو خپلو کې (یعنې له خپله ځانه).

تفسیر: او بیعت واخله ای ځما پیغمبره ! له ښځو څخه په دې خبره چې: نه به راځي په دروغو سره چې جوړوي هغه دروغ په منځ د لاسونو او پښو خپلو، یعنې چې حرامزاده اولاد رانه وړي او په بل چا باندې په دروغو سره دعوی کوي، یا په دروغو سره شاهدي ورکوي، یا په کومه معامله کې له خپل ځانه خبره جوړه کړي په دروغو سره او قسمونه خوري، بله معنی یې دا ده چې: د خپل ځیږولي اولاد نسبت په دروغو سره بل چاته کوي، یا د بل چا اولاد پټوي، او داسې وایي چې: دا مې له خپل مېړه دی، یعنې په مکر او فرېب، دروغ، درغلی او ناروا سره خپل اولاد بل ته یا د بل اولاد ځان ته کوي.

وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ فَبَايِعْهُنَّ

او نه به کوي نافرماني له تا څخه په معروف ښو چارو کې؛ نو بيعت وکړه له دوی سره.

تفسير: پخوا يې فرمايلي وو: هغه مسلماني ښځې دې چې په هجرت کولو سره راځي؛ وپوښتلی شي !، دلته دا راښيي چې د هغوی پوښتل دا دي: که دا ګرد حکمونه چې په دې آيت کې دي هغوی ومني؛ نو د هغوی ايمان ثابت وګڼه !، دې آيت ته د بيعت آيت وايه شي، ځمونږ د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په مخ کې به چې ښځو بيعت کاوه، نو همدا اقرار به يې له دوی ځنې په ژبه سره اخيست، ليکن د بيعت په وخت کې د رسول أکرم صلى الله عليه وسلم لاس د هيڅ يوې ښځې لاس ته نه دی رسېدلی.

وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٢﴾

او مغفرت ښښنه وغواړه لپاره د دغو (ښځو) له الله، بېشکه چې الله ښه مغفرت کوونکی (د خطيّاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: يعنې په دې چارو کې هغه کوتاهي چې پخوا له دې څخه شوې ده، يا د دې احکامو په ځای راوړلو کې وروسته له دې نه کوم تقصير ورپېښ شي؛ نو ځکه تاسې د هغوی په حق کې د مغفرت او ښښنې غوښتنه وفرمايئ، تر څو الله تعالى ستاسې په دعا د دوی تقصيرات وروښني.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ! مه کوئ دوستي له هغه قوم (يهودانو) سره چې په قهر شوی دی الله پر دوی باندې.

تفسير: هغه خبره چې د دې سورت په شروع کې وه، د دې سورت په ختم کې يې هم د هغه ياد وفرمايه، يعنې د مؤمن په شان کې نه دي چې له هغه چا سره رفاقت او دوستي وکړي چې الله تعالى ورته په قهر وي، په هر چا باندې چې پاک الله په قهر وي؛ ښايي چې د الله تعالى دوستان هم ورته په قهر وي.

قَدْ يَئِسُوا مِنَ الْآخِرَةِ كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ أَصْحَابِ الْقُبُورِ ﴿١٣﴾

په تحقيق نااميده شوي دي دغه (يهودان) له آخرته لکه چې نااميده شوي دي کافران له ټولګيو ملګرو د هديرو څخه.

تفسير: يعنې منکران داسې توقّع نه لري چې له هديرې څخه به څوک پاڅيږي، او بيا به په بل ژوندون کې يو له بل سره وګوري، دا کافران هم هم هغسې نااميده دي.

تنبيه: د ځينو مفسّرينو په نزد ﴿مِنْ أَصْحَابِ الْقُبُورِ﴾ د کفّارو بيان دی، يعنې هغسې چې هغه کافران چې هديرو (مقبرو) ته رسېدلي دي، او د هغه ځای له حال او احوال څخه خبر شوي دي، او د الله د مهربانۍ او خوښۍ ځنې بالکل بې هيلي او نااميده شوي دي؛ همدا راز دا کافران هم د آخرت له لوري بالکل بې اسرې او نااميده دي.

تمّت سورة الممتحنة بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ الصَّفِّ

«د (الصف) سورت مدني دی، (۱۴) آیتونه دوه رکوع لري، په تلاوت کې (۶۱) او په نزول کې (۱۰۹) سورت دی، وروسته د (التغابن) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۖ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ① يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا
تَفْعَلُونَ ② كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ ③ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي
سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنْيَانٌ مَّرْصُوصٌ ④

نسبت د پاکي کوي الله لره هر هغه څیزونه چې په اسمانونو کې دي، او (هر هغه څیزونه چې) په ځمکه کې دي (سره له اسمانونو او ځمکې)، او همغه (الله) ښه غالب قوي دی، ښه حکمت والا دی. ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی ! ولې وایئ تاسې هغه (خبره) چې نه یې کوئ. لویه ده له جهته د غضبه په نزد د الله (دا خبره) چې وایئ تاسې هغه څه چې نه یې کوئ. بېشکه الله خوښوي هغه کسان چې جنګ کوي په لاره (د دین) د دغه (الله) کې صف تړونکي ګواکې دوی بناګاني په قلایي سره ټینګې کړی شوې (ښې محکمې).

تفسیر: هر بنده ته ښایي چې له لویی، ځانمنی او باتې (لافې) وهلو او له ناحقو دعوی ځنې وویریږي !، ځکه چې وروسته به په جنجال او ربړو کې اخته شي، له خولې څخه د یوې خبرې ایستل ډېر آسانه دي، مګر د هغې سر ته رسوونه ډېر سخت کار دی، الله تعالی له سره هغه سړي نه خوښوي چې په ژبه یو شی وایي، خو کول یې هسې نه وي، په روایاتو کې راغلي دي چې په یو ځای کې څه مسلمانان ګرد سره ټول شوي وو؛ نو وئ ویل: که مونږ ته دا خبره راښکاره شي چې الله تعالی د کوم کار له کولو څخه ډېر خوښیږي؛ مونږ ټول به همغه غوره کوو، په دې خبرې باندې دا آیتونه رانازل شول، چې خبردار وګورئ ! په احتیاط سره خبرې کوئ !، دا ده ! در وایي خلئ، د الله تعالی په دربار کې هغه سړي ګران او زیات محبت ورسره کوي، چې د الله تعالی په لاره کې د هغه د دښمنانو په مقابل کې لکه د اوسپنې دیوال ټینګ ولاړ ودریږي، او د جهاد په ډګر کې خپل معنوي صفونه داسې وتړي چې ګواکې داسې یو مضبوط دېوال دی چې له سریو څخه رڼا بدلی شوی دی، او په هغه کې له هیڅ لوري کوم کندواو او رخنه نه وي لوبدلې، نو اوس په دې معیار سره هر سړی خپل ځان ته وګوري ! نو هلته به دا خبره ورښکاره شي، چې په تاسې کې ډېر سړي داسې دي چې په دې معیار سره اکمل، کامل، جوړ او مناسب ښکاري، مګر ځینی به داسې څرګندیږي چې په ځینو مواقعو کې په ژبه او تشو وینا وو سره ډېر غږیږي مګر عمل یې د وینا دروغ څرګندوي.

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ لِمَ تُؤْذُونَنِي وَقَد تَّعْلَمُونَ أَنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَيْكُمْ ۖ

او (یاد کړه ای محمده ! هغه وخت) کله چې وویل موسی علیه السلام قوم خپل ته داسې چې: ای قومه ځما ! ولې اذیّت رسوئ تاسې ماته (په بد ویلو سره) حال دا چې په تحقیق پوهیږئ تاسې په دې چې بېشکه زه رسول د الله یم تاسې ته.

تفسير: يعني د ښکاره دليلونو او څرګندو معجزاتو په ليدلو سره تاسې پخپلو زړونو کې باور کوئ چې زه د الله تعالى رښتين رسول او پيغمبر يم، بيا خو مې په ډېرو ناکاره او زړه خفه کوونکيو حرکتونو سره ولې ربړوئ؟.

فَلَمَّا زَاغُوٓا۟ أَزَاغَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمْ ۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٥﴾

نو هر کله چې وګرځېدل دوی (له احکام الله نه)؛ نو وګرځول الله زړونه د دوی (له هدايت او يقين نه)، او الله نه ښيي سمه صافه لاره فاسقانو نافرمانانو ته.

تفسير: قاعده ده چې د ډېرو بدیو کولو څخه زړه تک تور او سختيږي، تر دې چې د ښو کارونو لپاره په هغه کې هيڅ ځای نه پاتې کيږي، همدا حال د هغوی شو چې په هره خبره کې به يې د الله تعالى له رسولانو سره عناد او ضد او اختلاف کاوه، او درګرده به يې په کړو چالونو سره تګ کاوه، تر څو چې مردود شول، او الله تعالى د هغوی زړونه هسې کارې کړل چې د سمې خبرې د منلو صلاحيت هيڅ په کې پاتې نه شو، له داسې ضد کوونکيو نافرمانانو سره د الله تعالى همداسې عادت دی.

وَإِذْ قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَىَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ

او (ياد کړه ای محمده ! هغه وخت) کله چې وويل عيسى ځوی د مريمې داسې چې: ای بني اسرائيلو (اولاده د يعقوب !) بېشکه زه رسول لېږلی شوی د الله يم تاسې ته، (حال دا چې) تصديق کوونکی يم د هغه کتاب چې وړاندې ځما دی له (تورات) څخه.

تفسير: يعني اصلاً زه د دې خبرې تصديق کوم چې (تورات) د الله تعالى له لوري راغلی دی، او په اخبارونو او احکامو يې يقين او باور لرم، او ځما ګرد تعليم او ښوونې په حقيقت سره د همغو اصولو باندې مبني دی چې په (تورات) کې ښوولی شوي دي.

وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُولٍ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِى ٱسْمُهُۥٓ أَحْمَدُ ۖ

او زېرى کوونکی يم په هغه رسول سره چې رابه شي وروسته له ما څخه چې نوم د هغه احمد دی.

تفسير: يعني د ړومبني تصديق کوم، او د وروستني زېرى اوروم، هسې خو نورو پخوانيو پيغمبرانو هم د خاتم الأنبياء د تشريف راوړلو زېرى اورولی دی، خو په هغه صراحت او ښکاره ډول سره چې مسيح عليه السلام په ډېر اهتمام سره د محمد رسول الله صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلّم د راتګ زېرى اورولی دی، هغسې له نورو څخه نه دی منقول شوی، ښايي چې د قرب العهد له وجې دا خصوصيت د ده په برخه کې راغلی وي، ځکه چې وروسته له دوی څخه پرته د نبي آخر الزمان صلى الله عليه وسلم بل کوم پيغمبر راتلونکی نه دی.

فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ قَالُوا۟ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٦﴾

بيا کله چې راغی هغه (رسول) دوی ته په ښکاره وو معجزو سره؛ وويل (بني اسرائيلو) دا (قرآن) سحر کوډې دي ښکاره.

تفسير: يعني مسيح عليه السلام سره له ښکاره نښو راغی، يا د هغه شي زېرى يې چې ورکړی وو؛ احمد مجتبى مصطفى صلى الله عليه وسلم له هغو ښکاره وو معجزاتو سره راغی؛ نو خلقو هغه سحر کوډې او جادو وبللې.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعَىٰ إِلَى الْإِسْلَامِ ۚ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿٧﴾

او څوک دی ډېر ظالم (بلکه هیڅوک نشته) له هغه چا څخه چې له ځانه ترې په الله پورې دروغ، او (حال دا چې) دی بللی شوی دی طرف د اسلام ته، او الله نه ښیي سمه صافه لاره قوم ظالمانو بې انصافانو ته.

تفسیر: یعنې کله چې هغوی ته د اسلام په لوري بلنه کیږي؛ نو حق پټوي، او له خپل ځانه دروغ جوړوي، او پر محمد صلی الله علیه وسلم باندې له ایمان راوړلو څخه مخ اړوي، هغوی پر الله تعالی د بشر یا په بشر باندې د الله حکم کوي، په اسماني کتابونو کې تحریفونه کوي، او له هغو شیانو څخه چې واقعیت او حقیقت لري منکریږي، او هغه شیان چې هیڅ حقیقت نه لري په اسماني کتابونو کې داخلوي، نو له دې څخه به لوی ظلم څه وي؟ او د الله تعالی له جانبه داسې بې انصافانو ته به هدایت چېرې په برخه کېدی شي؟.

يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ ﴿٨﴾

اراده لري، غواړي (منکران) چې مړه کړي رڼا د الله (شریعت د محمد) په خولو خپلو سره، او الله پوره کوونکی د رڼا خپلې دی، اګر که بد ګڼي دغه (اتمام د رڼا لره) کافران منکران.

تفسیر: یعنې که کافران منکران بد وګڼي او خفه هم شي، خو سره له هغه پاک الله خپله رڼا پوره رڼوي، او د الله تعالی د مشیت په خلاف کوښښ کول هسې دي لکه چې کوم احمق د لمر رڼا پخپله خوله سره مړه کوي، همدا حال دی د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د مخالفانو او د مخالفانه وو زیار وو.

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ﴿٩﴾

دغه (الله) هغه (ذات) دی چې رالېږلی یې دی رسول خپل (محمد) په هدایت سمه صافه لاره، او په دین حق لپاره د دې چې غلبه ورکړي (الله) دغه (حق دین) ته پر دینونو ټولو باندې، اګر که بده ګڼي (دغه غلبه) مشرکان.

تفسیر: په دې آیت باندې د (براءة) د سورت په تفاسیرو کې خبرې شوي دي، هلته دې وکتلی شي !.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿١٠﴾ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١١﴾ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی ! آیا دروښیم تاسې ته هسې تجارت سوداګري چې نجات درکوي خلاصوي تاسې له عذاب دردناک. (پس دغه تجارت او سوداګري کوئ چې هغه دا ده): ښه ټینګ محکم مضبوط اوسئ په ایمان باندې، چې لرئ یې په الله باندې او په رسول استاځي د دغه (الله)، او جهاد جنګ کوئ تاسې (ای مؤمنانو له دښمنانو د الله تعالی سره) په لاره د الله کې په اموالو خپلو سره، او په نفسونو خپلو سره (چې جنګ ته یې وړاندې کوئ)، دغه (ټینګ ایمان او مالي او جاني جهاد) خیر بهتر دی تاسې ته که چېرې یئ تاسې چې پوهېږئ؟. نو وبه بښي (الله) تاسې ته ګناهونه د تاسې، او داخل به کړي تاسې په جنتونو کې چې بهیږي له لاندې (د مانیو او ونو) د هغو ویالې.

تفسير: يعني دغه دين ته پر نورو اديانو باندې برى ورکول د الله تعالى کار دى، خو پر تاسې باندې دا فرض دي چې پخپل ايمان باندې په ښه ډول سره مستقيم اوسئ !، او د هغه په لاره کې په ځان او مال سره جهاد وکړئ !، دا هغه تجارت او سوداګري ده چې هيڅ زيان په کې نشته، که مسلمانان وپوهيږي نو دا تجارت د دنيا له ګردو تجارتونو څخه بهتر دى، ځکه چې د هغه ګټه کامله مغفرت او دائم جنّت دى، چې له هغه څخه پورته او ښه برى او مراد موندل بل نشته.

وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنّٰتِ عَدْنٍ ۭ

او (داخل به مو کړي) په ځايونو ښايسته وو پاکيزه وو کې (چې جوړ شوي دي) په جنّتونو د همېشه اوسېدلو کې.

تفسير: يعني هغه پاکيزه مانى به د هغو جنّتونو په مخ کې وي چې هلته مؤمنان اوسيږي، دا خو د آخرت کاميابي ده، وروسته له دې د دنيا د اعلى او انتهايي کاميابى او برې ذکر هم راځي چې:

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝١٢ وَاُخْرٰى تُحِبُّوْنَهَا ۭ نَصْرٌ مِّنَ اللّٰهِ وَفَتْحٌ قَرِيْبٌ ۭ

دغه (مغفرت او ادخال د مؤمنانو جنت ته) فوز عظيم، برى موندل، په مراد رسېدل ډېر لوى دي. او (الله تاسې ته اى مؤمنانو درکړى دى) بل (دنيوي نعمت چې) خوښوئ غواړئ تاسې هغه (نعمت) نصرت کومک حفاظت دى له (جانبه د) الله، او فتح قريب، برى نژدې دى.

تفسير: يعني اصلي او لوى برى او کاميابي خو هغه ده چې په جنّت کې ورکاوه شي، چې د هغه په مقابل کې د اوو اقليمو او د ټول جهان شهنشاهي هيڅ ده، خو په دنيا کې هم يو داسې شى تاسې ته درکاوه کيږي، چې هغه ستاسې په نزد طبعًا ډېره غوره او محبوب دى، او هغه ﴿نَصْرٌ مِّنَ اللّٰهِ وَفَتْحٌ قَرِيْبٌ ۭ﴾ دى، يعني د الله تعالى له لورې يو ځان ته مخصوصه مرسته او امداد او ژر حاصل کېدونکې فتح او ظفر چې له دوى ځنې به هر يو له بل سره هسې تعلّق لري لکه خوله او لاس.

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝١٣

او بشارت زېرى ورکړه (اى محمده !) مؤمنانو ته (په دنيوي فتح نصرت او اخروي مغفرت او جنّت).

تفسير: ځکه چې د دې زېرې او بشارت اورول هم ځان ته يو مستقل بخښش او انعام دى.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْٓا اَنْصَارَ اللّٰهِ

اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړى دى ! شئ تاسې مرسته کوونکي (د دين) د الله (لکه چې مرسته کړې وه حواريونو).

تفسير: يعني د هغه الله تعالى د دين او د ده د رسول الله صلى الله عليه وسلم او استاځي مرسته کوونکي او مددګار شئ !، لکه چې د دې حکم د تعميل په اثر د الله تعالى په فضل او احسان او توفيق سره په مسلمانانو کې يو ځان ته فرقه د «انصارو» په نامه پيدا شوه.

كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنْصَارِي إِلَى اللَّهِ ۖ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنْصَارُ اللَّهِ

لكه چې ويلي وو عيسى ځوى د مريمې حواريونو (ملګرو خپلو) ته ! څوک دي مرسته کوونکي ځما په لاره د الله کې؟ نو وويل حواريونو (ملګريو د ده): مونږ يو مرسته کوونکي (د دين) د الله.

تفسير: حواريين د مسيح عليه السلام ياران لږ څه شمه او غوره سړي وو، چې د خپل حسب او نسب په اعتبار سره دومره زيات معزّزان نه ګڼل کېدل، دوى د عيسى المسيح عليه السلام دين ومانه، او د عيسوي دين په دعوت او بلنه کې لويې قربانۍ ورکړې، تر څو يې چې په شمارونو او کليو کې خپور کړ.

فَآمَنَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ وَكَفَرَتْ طَّآئِفَةٌ ۚ فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَىٰ عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا ظَٰهِرِينَ ﴿١٤﴾

نو ايمان راوړ يوې طائفې ډلې له بني اسرائيلو نه (په عيسى باندې چې بنده د الله دى، پورته شوى دى اسمان ته)، او کافره شوه پرې بله طائفه ډله (چې ويل يې عيسى ځوى د الله دى، پس دواړو طائفو جنګ سره وکړ) نو قوّت مو ورکړ هغو ته چې ايمان يې راوړى وو پر دښمنانو د دوى باندې، پس وګرځېدل دوى غالبان (پر کافرانو).

تفسير: يعنې بني اسرائيل په دوو فرقو وويشل شول، يوه يې په ايمان باندې قائمه پاتې شوه، او بلې له هغه څخه غاړه وغړوله، بيا د مسيح عليه السلام ځنې وروسته دوى دواړو سره منګولې ولګولې، او شخړې به يې سره کولې، په پاى کې د الله تعالى په مرسته په دې مباحثو، مناظرو او جګړو کې عيسويانو پر منکرانو باندې برى وموند، او د مسيح عليه السلام پر نوم اخستونکي (نصارى) په يهودانو باندې غالب شول، وروسته له عمومي ګمراهۍ څخه د نصاراوو ځينې پاتې سړيو ته چې صحيح عقيده يې درلوده؛ حق تعالى ځمونږ د نبي آخر الزّمان په وسيله پر نورو باندې برى او غلبه وروبښله، چې د دوى دا غالبيت او برى هم د حجّت او برهان په اعتبار او هم د سلطنت، قوّت او حيثيت له پلوه د افتخار وړ وو، فلله الحمدُ والمنّة.

تمت سورة الصف بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه، فلله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الجُمُعَةِ

«د (الجمعة) سورت مدني دی، (۱۱) آیتونه (۲) رکوع لري، په تلاوت کې (۶۲) او په نزول کې (۱۱۰) سورت دی، وروسته د (الصفّ) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴿١﴾ هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٢﴾

نسبت د پاکي کوي خاص الله لره هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي (له علویّاتو) او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي (له سُفلیّاتو) چې باچا ټولواک دی، ډېر پاک دی له هره عیبه، ښه غالب قوي دی، ښه حکمت والا دی. دغه (الله) هغه ذات دی چې پورته کړی لېږلی يې دی په اُمیّانو ناپوهانو کې یو رسول (محمّد) له دوی څخه، چې لولي پر دوی باندې آیتونه د دې (قرآن)، او پاکوي دوی (له شرکه او له نورو رذیله وو اخلاقو)، او ښیي دوی ته کتاب (قرآن) او احکام (د قرآن)، اګر که وو دوی پخوا له (بعثه د محمده) خامخا په ګمراهۍ ښکاره کې.

تفسیر: «اُمّیین» نالوستو عربو ته چې په دوی کې علم او هنر هیڅ نه وو، نه يې کوم اسماني کتاب درلود، په معمولي لیک او لوست باندې هم د دوی ډېر لږ سړي پوهېدل، د دوی وحشت او جهالت په دنیا او نړۍ کې ضرب المثل وو، الله تعالی يې بالکل هېر وو، پر بت منلو او اوهامو غوښتلو، فسق او فجور باندې يې د ابراهیمي ملّت نوم ایښی وو، او تقریبا ګرد قوم په صریحي ګمراهۍ کې ډوب تللی وو، ناڅاپه د الله تعالی له لوري په دې قوم کې یو رسول مبعوث شو، چې د هغوی امتیازي لقب «نبيّ أمّيّ» دی، خو سره د دې امّیتوب يې خپل قوم ته له ګردو څخه زیات عظیم الشأن کتاب راوړ، او وايې وراوه، او د علومو او معارفو او د حکمت او پوهنې عجیبې او غیبې خبرې وروښوولې، او دوی يې هسې پوهان او حکیمان کړل چې د نړۍ لویو لویو حکیمانو، پوهانو، علماوو، عرفاوو او نورو به له دوی څنې د علم او معرفت او کریمه اخلاق زده کول.

وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ

او (الله پورته کړی لېږلی دی محمد لره په منځ د نورو راتلونکیو خلقو د هدایت لپاره هم یو واسطه دی) له مؤمنانو چې نه دي رسیدلي دوی هغو (پخوانیو) ته (په فضیلت کې).

تفسیر: یعنې همدا رسول الله صلی الله علیه وسلم د نورو راتلونکیو خلقو د هدایت لپاره هم یو واسطه دی، ښایي هغوی ته د مبدأ او معاد او اسماني شرائعو باندې د صحیح علم او پوره پوهې د نه لرلو په واسطه مونږ اُمّي او نالوستی ویلی شو، لکه د بلخ، هرات، سیستان، غزني، کابل، خراسان، پارس، روم، چین، هند او نور قومونه چې وروسته له دې نه د دې امیّونو په دین کې داخل او په اسلامي اُخوّت، وروړۍ کې شامل شول.

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٣﴾

او دغه (الله) ښه غالب قوي دی ښه حکمت والا دی.

تفسير: چې د هغه زبردست قوّت او حکمت د دې جليل القدر پيغمبر په وسيله تر قيامت پورې د عربو او عجمو د تعليم او تزکيې انتظام وفرمايه، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلّم.

ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿٤﴾

دغه (نبوّت) فضل لوی د الله (له طرفه) دی چې ورکوي يې هغه چاته چې اراده وفرمايي د ورکولو يې، او الله څښتن د فضل ډېر لوی دی.

تفسير: يعنې الله تعالى محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم ته داسې لويي ورکړه، او دې امّت ته يې داسې د لويې مرتبې څښتن رسول وروبانبه، وروسته له دې نه د يهودانو مثال د عبرت په ډول بيانوي، چې هغوی د خپل پيغمبر په کتاب کې ډېر زيات غفلت، بې پروايي کړې ده.

مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا ۚ

مثال د هغو کسانو چې مکلّف کړی شوي وو هغوی په «تورات» (چې پرې عمل وکړي)، بيا بار نه کړ هغوی هغه (تورات چې عمل يې پرې ونه کړ، مثال د دغو کسانو چې علماء د يهودو دي) په مثال د خره دی، چې په شا وړي کتابونه، او نفع ترې نشي اخيستی.

تفسير: يعنې پر يهودانو باندې د «تورات» پېټی ايښود شوی وو، او دوی د هغه ذمّه وار ګرځولي شوي وو، خو هغوی د هغه د تعليماتو او هداياتو هيڅ پروا ونه کړه، او نه يې محفوظ وساتل، او نه يې پخپلو زړونو کې ځای ورکړ، او نه يې پرې عمل وکړو، او نه د الله تعالى له هغو فضلونو او انعامونو ځنې ګټور شول چې د هغو له لوري هغوی ته ورعطا او بښلي شوي وو، بېشکه هغه «تورات» چې دوی يې حاملان ټاکلي شوي وو؛ د ربّاني هدايتو او حکمتونو يوه لويه خزانه وه، نو کله چې دوی له هغه څخه منتفع نه شول، نو د دوی مثال هسې شو لکه چې يو خر چې د علم او د حکمت ډېر لوی کتابونه پرې بار شوي وي، نو هغه ته پرته له دې څخه چې د هغه پېټي لاندې سترې ستومان شي بله کومه ګټه نه وررسيږي.

بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ ۚ

ډېر بد دی مثال د قوم هغه (کسانو) چې دروغ ګڼلي د الله تعالى آيتونه.

تفسير: يعنې خراب قوم دی هغه قوم چې د هغوی مثال داسې وي، الله مو دې ترې پخپله پناه کې وساتي !، الله تعالى په «تورات» او نورو کتابونو کې کوم زېرې چې د نبي آخر الزّمان په نسبت ورکړې دی، او هغه دلائل او براهين چې د دوی پر رسالت باندې قائم دي، د هغو دروغ بلل د الله تعالى آيتونه دروغ ګڼل دي.

وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿٥﴾

او الله نه ښيي سمه صافه لاره قوم ظالمانو ته (کافرانو ته).

تفسير: يعنې هسې معاندانو زورورانو او بې انصافانو ته د هدايت توفيق نه ورکوي.

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ هَادُوٓاْ إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَآءُ لِلَّهِ مِن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ۝٦ وَلَا يَتَمَنَّوْنَهُۥٓ أَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ۝٧

ووايه ته (ای محمده !) ای هغو کسانو چې يهودان شوي يئ ! که ګمان دعوی کوئ تاسې (د دې) چې ښېشکه تاسې دوستان يئ د الله پرته له نورو خلقو (چې مؤمنان دي)؛ نو (فرمايي الله) ارزو وکړئ د مرګ که چېرې يئ تاسې صادقان رښتيني (په دغه ادّعاء د دوستۍ کې). حال دا چې وبه نه کړي دوی ارزو د دغه (مرګ) هيڅېرې په سبب د هغو کارونو چې مخکښې ليږلي دي لاسونو د دوی، او الله ښه عالم دی (په احوالو د) ګردو ظالمانو.

تفسير: يعنې سره له دې ناپوهی، جهل او حماقت داسې دعوی کوي چې مونږ يې د نورو له شرکته د پاک الله دوستان يو، او جنّت واکوالان او حقداران يو، کله چې له دنيا څخه ولېږو؛ نو سمدلاسه جنت ته ځو، که په رښتيا سره دوی خپلو زړونو کې داسې يقين لري، او پخپلو دغو دعوو کې رښتين دي؛ نو ضرور وو چې دوی د دنيا له مکدّر عيش څخه خپل زړونه شکولي او د حقيقي محبوب او د جنّت الفردوس په تمنّا کې به يې د مرګ ارزو کوله، ځکه هغه چاته چې دا خبره يقيناً ښکاره وي چې ځما درجه د الله تعالی په دربار کې ډېره لويه ده، او هلته ځما لپاره هيڅ يوه خطره او وېره نشته، نو هغه ښېشکه په مړ کېدلو باندې خوښيږي.

تنبيه: په همدې مضمون يو بل آيت د (البقرة) په سورت ځمونږ د دغه مبارک تفسير کې هم تېر شوی دی، دلته دې هم د هغه تفسير بيا وکتل شي، د ځينو اسلافو په نزد د موت د تمنّا مطلب «مباهله» وه، يعنې معاندانو يهودانو ته وويل شو: که «هغوی په رښتيا سره د خپلو اولياء کېدلو يقين لري، او مسلمانان په باطلو باندې ګڼي؛ نو داسې تمنّا دې وکړي د دواړو فريقينو له منځه هر څوک چې دروغجن وي؛ مړ دې شي !»، مګر هغوی به هيڅکله داسې نه کوي، ځکه چې هغوی ته د دوی د کذب او د ظلم يقين حاصل دی، ابن کثير او ابن القيّم (رحمهما الله) او نورو هم دا توجيه غوره کړېده، والله أعلم.

قُلْ إِنَّ ٱلْمَوْتَ ٱلَّذِى تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُۥ مُلَٰقِيكُمْ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝٨

ووايه (ای محمده ! دغو يهودانو ته) ښېشکه مرګ هغه چې تښتئ تاسې له هغه نه (او نه يې غواړئ) پس ښېشکه هغه مرګ ضرور رسېدونکی دی تاسې ته، بيا به بوتلی شئ تاسې په لوري د (هغه) ښه پوهيدونکي په پټو او په ښکاره وو باندې، پس خبر به کړي تاسې په هغو (کارونو باندې) چې وئ تاسې چې کول به مو (په دنيا کې؛ نو جزاء به پرې درکړي).

تفسير: يعنې ای يهودانو ! که تاسې له مرګه ويرېږئ؛ نو چېرې به تښتئ او ځئ؟ که په زرګونو ځلې کوښښ هم وکړئ، او په هسې کلکو کلاوو کې سنګر (مورچه) ونيسئ چې ورونه يې ترلي وي؛ نو هلته به هم له مرګه نه خلاصېږئ، او وروسته له مرګه بيا همغه د الله تعالی عدالت دی او تاسې.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِىَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوْمِ ٱلْجُمُعَةِ فَٱسْعَوْاْ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلْبَيْعَ

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ! کله چې اذان وويل شي لپاره د لمانځه په ورځې د جمعې کې؛ نو ځغلئ منډې ووهئ طرف د ذکر د الله ته، او پرېږدئ (بيع او شراء ـ پلورل او پېرودل).

تفسير: شاه صاحب ليکي: «د هر اذان حکم داسې نه دی، ځکه چې بل جماعت هم موندل کيږي، او د جمعې لمونځ په يوه مسجد کې اداء کيږي، په بل ځای کې نه اداء کيږي»، او د الله تعالى له يادہ ځخه خطبه مراد ده، او لمونځ د هغه په عمومیت کې داخل دی، يعنې په داسې وخت کې ښايي چې مونږ مسجد ته ورشو، چې خُطبه واورو، په دې وخت کې پلورل او پېرودل (اخيستل او خرڅول) حرام دي، او له منډې وهلو او ځغلېدلو او سعي ځخه په پوره اهتمام او استعداد سره ورتګ مطلوب دی، او منډې وهل مراد نه دي.

تنبيه: په قرآنکريم کې له ﴿نُودِيَ﴾ ځخه هغه اذان مراد دی، چې د دې آيت د نزول په وخت کې وو، يعنې هغه اذان چې امام ته مخامخ پخوا له خُطبې ځخه ورکاوه کيږي.

ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٩﴾

دا (تګ لمانځه ته) خير بهتر ډېر غوره دی تاسې ته که چېرې يئ تاسې چې پوهېږئ (په أخروي نفع او نقصان خپل).

تفسير: ښکاره ده چې د أخروي ګټې په مقابل کې دنيوي فائدې هيڅ يو حقيقت نه لري.

فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٠﴾

نو هر کله چې اداء کړی شي لمونځ (د جُمعې)؛ پس خواره شئ تاسې په ځمکه کې (خپلو حوائجو ته که يې لرئ)، او ولټوئ تاسې له فضله د الله، او يادوئ تاسې الله (په يادولو) ډېرو سره، ښايېږي چې ومومئ تاسې ښېګڼې خلاصی، مراد.

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله) ليکي: «د يهودانو په نزد د عبادت ورځ د شنبې ورځ وه، چې په ګرده ورځ کې سود سودا منع وه، نو ځکه يې وفرمايل چې: وروسته له لمانځه ځخه د روزی په لټولو پسې وګرځئ !، او په هغه وخت کې هم تاسې د الله تعالى له يادہ غافل مه اوسئ !.

وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا ۚ قُلْ مَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ ۚ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿١١﴾

او کله چې ووينې دوی تجارت سوداګري يا کومه لهو تماشا نندارہ؛ نو خوريږي دوی په لوري د هغې، او پرېږدي دوی تا ولاړ (خُطبه ويونکی پر منبر)، ووايه (ای محمده ! دوی ته) هغه څه (ثواب) چې په نزد د الله دی خير ډېر بهتر غوره دی له لهوې تماشې نندارې او له تجارت سوداګری ځخه، او الله خير ډېر بهتر غوره له ګردو رزق روزی ورکوونکيو دی.

تفسير: يو ځلې رسول أکرم صلى الله عليه وسلم د جُمعې په ورځ خُطبه فرمايله، چې د سوداګرانو جوپې له باندې ځنې خواړه او غله راوړه، چې له هغه سره د خبرتيا لپاره طبل تغاري او ډمامې هم وهلې کېدې، ځرنګه چې په ښار کې غله ډېره لږه وه؛ نو خلقو ورمنډې وهلې چې هغه جوپه واړوي، ګواکې دوی داسې ګڼل چې د خطبې حکم هم لکه د نورو وعظونو غوندې دی، چې په هغو کې د ضرورت په وخت کې سړی پاڅېدی شي، او بيا لمانځه ته ځان ور رسوي، يا به لمونځ شوی وي لکه چې د ځينو قول دی چې: په هغه وخت کې د جمعې لمونځ پخوا له خُطبې ځخه کېده، په هر حال د خُطبې احکام لا نه ښکاره نه وو، چې خُطبه هم د لمانځه په شان ده، ډېر خلق لاړل، رسول صلى الله عليه وسلم سره له دولسو سړيو چې په هغوی کې راشد خلفاء هم وو پاتې شول، نو په دې نسبت دا آيت را نازل

شو، يعني سوداګري او د دنيا لوبې او تماشې څه شی دي، هغه ابدي ګټه حاصله کړئ !، چې له الله تعالى سره ده، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحبت او مجلس په برکت او د ذکر او عبادت څخه په لاس راځي، پاتې شوه هغه اندېښنه چې تاسې ته د خوړو او قحط له پلوه پيدا شوې وه، او د هغې لامله داسې ولټېدلئ نو په ياد يې ولرئ چې رزق روزي د الله تعالى په لاس کې ده، او همغه ډېر ښه روزي ورکوونکی دی، او د هغه مالک هيڅ يوه بنده ته نه ښايي چې په دې باره کې اندېښنه وکړي، وروسته له دې تنبيه څخه د صحابه وو شان داسې وو چې د (النور) په سورت کې راغلی دی: ﴿رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ﴾.

تنبيه: لهو هر هغه شي ته وايه شي چې سړی د الله تعالى له ياده وباسي، لکه لوبې، نندارې، او ښايي چې د هغې طبل، تغارې او ډمامې غږ ته لهو ويلې شوي وي.

تمّت سورة الجمعة بفضل الله ومنّه وكرمه.

سُورَةُ الْمُنَافِقُونَ

«د (المنافقون) سورت مدني دی، (۱۱) آیته (۲) رکوع لري، په تلاوت کې (۶۳) او په نزول کې (۱۰۴) سورت دی، وروسته د (الحجّ) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ قَالُوا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ اللَّهِ ۘ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُ ۗ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَكَاذِبُونَ ﴿١﴾

کله چې راشي تاته (ای محمده) منافقان نو وایي دوی: شاهدي ورکوو مونږ چې بېشکه ته خامخا رسول د الله یې، او الله ته معلوم دي چې بېشکه ته خامخا رسول د دغه (الله) یې، او الله شاهدي ورکوي په دې چې بېشکه منافقان خامخا دروغجنان دي (په دې شهادت خپل کې).

تفسیر: یعنې منافقان دروغ وایي چې: هغوی له زړه ستا په رسالت باندې اعتقاد لري، په رښتیا سره هغوی ستاسې په رسالت قائل نه دي، او یواځې د خپلو اغراضو لاملې په ژبه سره داسې خبرې کوي، او پخپلو زړونو کې وایي چې: مونږ دا خبرې په دروغو سره وایو، بیا ددوی دروغ په دې خبره باندې نه دي منحصر بلکه دروغ ویل ددوی امتیازي خصلت او شعار ګرځیدلي دي.

اتَّخَذُوا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً

نیولي دي دوی قسمونه خپل ډالونه (چې پرې ساتي سرومال خپل).

تفسیر: یعنې په دروغو سره قسمونه خوري چې مونږ مسلمانان یو، او د اسلامي مجاهدینو له لاسه د خپلو ځانونو او مالونو د ساتنې لپاره د داسې قسمونو تر سیوري لاندې خپلې شپې او ورځې تېروي، کله چې له دوی څخې د پوښتنې وړ کوم کار څرګندیږي، او د مسلمانانو له لوري د مؤاخذې وړه پیدا کیږي؛ نو سمدلاسه دوی په ناحقو قسمونو یادولو باندې شروع کوي.

فَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۚ إِنَّهُمْ سَاءَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢﴾

پس اړوي (دوی خلق په دغو قسمونو سره) له لارې د الله څخه، بېشکه دوی چې دي بد دی هغه عمل چې دي دوی چې کوي یې.

تفسیر: یعنې د اسلام او مسلمانانو په نسبت طعن، تشنیع وایي او عیبونه یې لټوي، او د اسلام له ننوتلو څخه نور خلق منع کوي، او خلق هم د دوی په ښکاره مسلمانۍ باندې غولیږي، نو د دوی د دروغو قسمونو ضرر او فساد تر دوی پورې محدود نه پاتې کیږي، بلکه نورو ته هم متعدّي کیږي، نو له دې څخه به لویه خرابي څنګه وي؟.

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ۝٣

دا (بدي د عمل د منافقانو په سبب د دې ده چې) بېشکه دوی ایمان راوړی دی (لسانًا) بیا کافران شوي دي، بیا مهر وهلی شوی دی په زړونو د دوی باندې؛ پس دوی نه پوهیږي.

تفسیر: یعنې په ژبه سره د ایمان دعوی کوي، او په زړه کې له هغوی څخه انکار کوي، سره د ایمان د دعوی د کافرانو په شان کارونه کوي، د دې بې ایمانۍ او انتهایي مکر او فریب او اثر داسې شو چې د هغوی په زړونو باندې مهر ولګېد، چې پر هغوی د ایمان، خیر، صداقت او امانت ګردې لارې وتړلې شوې، او هیڅ یو ښه شی په هغه کې نه ځاییږي، ښکاره ده چې اوس دې حالت ته رسیدلي دي چې له هغوی ځنې د پوهېدلو او په لار راتللو هیڅ یوه هیله او توقّع نشي کېدی، کله چې د سړي زړه د بدکاریو او د بې ایمانیو څخه بالکل خراب او مسخ شوی وي؛ بیا نو په دې کې د ښه او بد پوهېدلو هیڅ صلاحیت نه پاتې کیږي.

وَاِذَا رَاَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ ۭ وَاِنْ يَّقُوْلُوْا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ۭ

او کله چې ووینې ته دوی؛ په تعجّب کې تا اچوي اجسام جثې بنې د دوی له جهت د ښایست، او که خبرې کوي دوی؛ اوږې غوږ ږدې ته خبرو د دوی ته له جهته د فصاحته او بلاغته.

تفسیر: یعنې زړه خو مسخ شوی دی، مګر که بنې (جسم) ته وکتل شي؛ ډېر ډولي، ښایسته، روغه رمټه، لویه درنده ښکاري، په خبرو اترو کې ډېر غوږ او ښه غږیږي، په فصاحت او بلاغت کې بې مثال او بې نظیر ښکاري، او خامخا د اوریدونکي فکر او توجّه ځان ته وراړوي، او د هغه د څېرې د ظاهري سطحې له لیدلو څخه هر سړی د هغه منلو او باور کولو ته حاضریږي.

كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ۭ

حال دا چې په واقع کې ګواکې دوی لرګي وچ دي درولي شوي دېوال ته.

تفسیر: هغه وچ او بېکاره لرګي چې له دیوالونو سره یې لګولي دروي، محض بې ځان او لایعقل او د نشوونما او د ودې څخه بې برخې وي، په لیدلو سره ډېر لوی او پنډ ښکاري، مګر یوه شېبه هم بې له تکیې او استناده نه شي ودرېدی، هو یواځې د سوځولو په کار راتلی شي، همدا حال د دې خلقو دی چې د هغوی ښه شکل او ښایسته جثه او ښکاره ډول وډیل ډېر ښه ښکاري، خو په منځ کې تش او بې ځان وي، او یواځې د دوزخ خس کېدی شي.

يَحْسَبُوْنَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ۭ

ګڼي دوی هر غږ (هسې چې بلاء راغله) پر دوی باندې.

تفسیر: هسې بزدل، نامرد او ویریدونکي دي، چې په لږ شوروشر سره د هغوی زړونه لړځیږي، او داسې ګڼي چې سمدلاسه پر مونږ باندې کومه لویه بلا یا آفت راتلونکی دی، د خپلو درنو جرمونو، درغلیو، دروغو او خیانت لامله هر کله د هغوی په زړونو کې دغه اندېښنه او وېره لوېدلې وي.

هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ ۭ

همدوی دي دښمنان (د مؤمنانو) نو ځان وساته له دوی څخه.

تفسير: يعنې لوی ويروونکي دښمنان او غليمان همدوی دي، د دوی له مکرونو او چالونو څخه تل خبردار شئ !، او بې غمه او بې اندېښنې مه ترې کښېنئ !.

قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٤﴾

هلاک دې کاندي دوی لره الله، څرنګه ګرځولی شوي دي دوی (له سمې صافې لارې نه).

تفسير: يعنې وروسته د ايمان له اظهاره دا بې ايماني، او پس له دې نه چې د حق او صداقت په رڼا کې ننوتلي دي، د دوی دا ظلمت ـ تياره خوښول ډېر عجيب او حيرانوونکي دي.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ لَوَّوْا رُءُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ﴿٥﴾

او کله چې وويل شي دوی ته راشئ (په عذر غوښتلو سره) چې بښنه وغواړي تاسې ته (محمد) رسول د الله؛ تاو کړي دوی سرونه خپل (مخ ترې اړوي) او وينې ته دوی چې څنګ کوي (له درتللو نه په خدمت د تا) حال دا چې وي دوی لويي کوونکي (له توبې او استغفار نه).

تفسير: يعنې که چېرې د دې منافقانو کوم شرارت په صاف ډول سره څرګند شي، او د دوی د کذب او د خيانت پرده وشليږي؛ نو خلق دوی ته وايي: اوس لا هم وخت شته، ورځئ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شئ، او د هغوی په وسيله د الله تعالى له لورې خپلې بښنې وغواړئ، تر څو الله تعالى د رسول الله صلى الله عليه وسلم د استغفار په وجه ستاسې دا خطاوې وبښي؛ نو دوی د لويي او تکبّر او غرور له پلوه غاړې غړوي، او سرونه اړوي، او اوږې پورته غورځوي، او خپله بې پروايي ښکاروي، بلکه ځينې کمبختان په غوړه ژبه سره وايي چې: مونږ ته د رسول الله د استغفار هيڅ ضرورت نشته.

سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ﴿٦﴾

برابره ده پر دوی باندې چې بښنه غواړې ته (ای محمده !) دوی ته او که بښنه نه غواړې ته (ای محمّده !) دوی ته، له سره به بښنه نه کوي الله دوی ته، بېشکه الله نه ښيي سمه صافه لاره قوم فاسقانو، نافرمانانو ته.

تفسير: يعنې ممکن دي چې تاسې له ډېر رحمت او شفقت له کبله د هغوی په موجوده حالت باندې زړه سوی وکړي، او هغوی ته بښنه وغواړئ، مګر الله تعالى په هيڅ صورت سره هغوی نه بښي، او داسې نافرمانانو ته د هغه په لوري د هدايت توفيق نه ورکاوه کيږي.

هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُوا عَلَىٰ مَنْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّىٰ يَنفَضُّوا

دوی هغه کسان دي چې وايي (خپلو ملګرو ته) مه ورکوئ نفقه، مه لګوئ تاسې مال په هغه چا باندې چې په نزد د رسول الله دي (له فقراوو د مهاجرينو) تر څو چې متفرّق خواره شي دوی (ترې).

تفسير: په يو سفر کې دوه تنه سره په جنګ شول، چې يو مهاجر او بل انصاري وو، هر يوه له دې دواړو څخه خپلو ملګرو ته غږ کړ، او يوه لويه شخړه ترې جوړه شوه، کله چې دا خبر د منافقانو مشر «عبد الله بن أُبَيّ بن سَلُول» ته ورسېد؛ نو ويې ويل: «که مونږ دغو مهاجرينو ته پخپلو کورونو کې ځای نه ورکولی؛ نو دوی به ولې ځمونږ په مخ

کې داسې پورته کېدل، همدا تاسې يئ چې د دوی پالنه کوئ، چې دوی د دې محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم په شاوخوا کې سره ګرځي، تاسې د دوی دا خبر اخيستل او پوښتېدل پرېږدي، نو دوی د خپلو خوړو له لاسه په تنګ کيږي، او ګرد سره خواره کيږي، او د دوی دا ټولنه سره تار په تار کيږي»، دا يې هم وويل: که مونږ له دې خپل سفره بېرته وګرځېدو، او مدينې ته ورسېدو؛ نو ښايي هغه کسان چې د زور او اقتدار خاوندان دي نور سپک، ذليل او بې قدر خلق وشړي !، يعنې مونږ چې مالدار، او عزتمندان يو؛ ښايي دا خوار مسلمانان له مدينې ځنې وباسو، يو صحابي چې زيد بن أرقم رضي الله تعالى عنه نوميده، کله چې دا خبرې يې واورېدې، هغه يې يو په يو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته واورولې، رسول الله صلى الله عليه وسلم عبد الله بن أبَيّ او نور سړي خپل مخ ته وروغوښتل، او لازمه تحقيقات يې وفرمايل، نو منافقانو په قسم خوړلو باندې شروع وکړه، او ټولو سره وويل چې: دا ګردې خبرې دروغ دي، چې د زيد بن أرقم رضي الله تعالى عنه له لوري ځمونږ په خلاف په دښمنۍ سره جوړې شوي دي، نو خلقو پر زيد رضي الله تعالى عنه باندې په مسخرو شروع وکړه، او دې ډېر خفه، نادم او محجوب وو، په دې وخت کې دا آيتونه رانازل شول، نو رسول الله مبارک زيد رضي الله تعالى عنه راوغوښت، او ورته ويې فرمايل: چې ته د الله تعالى له لوري رښتين شوې.

وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَفْقَهُوْنَ ۝۷

او خاص الله لره دي خزانې د اسمانونو او د ځمکې، وليکن منافقان نه پوهيږي.

تفسير: يعنې دا احمقان ناپوهان منافقان دومره هم نه پوهيږي، چې د ګردو اسمانونو او د ځمکو د خزانو مالک الله تعالى دی، نو آيا هغه خلق به چې يواځې د هغه د خوښې لپاره د ده د رسول په خدمت کې سره بوخت دي، په لوړه سره وژني؟، او که خلق په هغوی باندې د خوړو ورونه وتړي؛ نو الله تعالى به هم د خپلو خوړو او رزق ور پر دوی باندې وتړي؟، بلکه نه يې تړي، رښتيا خو دا ده: هغه بندګان چې پر دې «اهل الله» باندې خپل مالونه لګوي، هغه هم پر هغوی باندې پاک پروردګار کوي، که د هغه له لوري دوی ته توفيق په برخه نه شي؛ نو په ښو کارونو کې به يو پول او پيسه ونه لګوي.

يَقُوْلُوْنَ لَئِنْ رَّجَعْنَآ اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ ؕ وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۸

وايي منافقان: که چېرته بېرته وګرځو مونږ د مدينې طرف ته، نو خامخا به وباسي هرومرو ډېر عزتمن ډېر خوار کمزور خلق، او خاص الله لره دی عزّت او غلبه او رسول د ده لره دی او مؤمنانو لره دی، وليکن منافقان نه پوهيږي.

تفسير: يعنې منافقان په دې باندې نه پوهيږي چې زورور او عزّتمن څوک دي؟ په ياد يې ولرئ چې اصلي او ذاتي عزت خو د الله تعالى دی، وروسته له هغه له الله تعالى سره د علاقه لرونکو ذواتو دی، چې درجه په درجه د هغه د تعلّقاتو له مخې مراتب لري، يعنې بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم او د نورو مؤمنانو دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝۹

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ! مشغول غافل دې نه کړي تاسې مالونه ستاسې او نه اولاد ستاسې له ذکره ياده د الله څخه، او هغه څوک چې وکړي دا کار؛ نو همدغه کسان همدوی دي زيانکاران.

تفسير: يعنې هر سړي ته دا لوی زيان دی چې باقي دولت پرېږدي، او په فاني پسې وردرومي، او له اعلی ځنې مخ اړوي، او په ادنی کې پرېوځي، همغه مال او اولاد ښه ګڼه شي چې سړی د الله تعالی له یاده نه غافلوي، او د آخرت له کاره یې نه وباسي، که کوم سړی په دې شیانو کې داسې اخته کیږي، او له الله تعالی ځخه غافلیږي؛ نو آخرت یې له لاسه ووت، او د دنیا په جنجالونو کې هسې کېووت، چې هغه ته به د زړه ډاډینه او اطمینان هیڅ په نصیب کې نه وي: ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ﴾.

وَأَنفِقُوا مِن مَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَا أَخَّرْتَنِي إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ الصَّالِحِينَ ﴿١٠﴾ وَلَن يُؤَخِّرَ اللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَاءَ أَجَلُهَا

او نفقه کړئ ـ ولګوئ تاسې له هغو مالونو ځخه چې درکړي مو دي تاسې ته پخوا له هغه ځنې چې راشي یو ستاسې ته (اسباب) د مرګ، نو وبه وایي: ای ربه ځما ! ولې دې وروستی نه کړ ما لره تر اجل نېټې نژدې پورې چې صدقه خیرات وکړم زه، او شم زه له صالحانو نېکانو ځخه. (نو فرمایي الله) او له سره به نه وروستی کوي الله هیڅ نفس لره (له مرګه) کله چې راشي نېټه یې.

تفسير: دا ښایي د منافقانو د دې وینا ځواب وي چې: ﴿لَا تُنفِقُوا عَلَىٰ مَنْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ﴾ الآية ـ دی، یعنې په خرڅ کولو کې ستاسې ښه ده، هر څه خیرات او صدقات مو چې له لاسه پوره وي؛ هغه ژر تر ژره همدا اوس وکړئ !، که نه موت او مړینه مو پر سر رسېدونکې ده، نو هلته به افسوس او ارمان کوئ چې ولې مو څه د الله تعالی په لاره کې ونه لګول؟ کله چې مرګی د شوم او بخیل په سر باندې راځي؛ نو هلته دی ارزو او تمنّا کوي، چې ای الله تعالی ! څو ورځې نور مې په مرګ کې ډیل او معطلي وفرمایه !، چې زه ښه خیرات صدقات ورکړم، او ځان ښه سنبال کړی په اصلاح او توبه راشم، خو هلته به کله مهلت ورکاوه کیږي؟ هر سړي لره هومره عمر او نېټه او میعاد چې ټاکلی شوی دی؛ د هغه د پوره کېدلو ځخه وروسته د یوې لحظې لپاره هم په هغه کې څه ډیل او تأخیر پېښېدونکی نه دی.

وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١١﴾

او الله ښه خبردار دی په هغه څه (ښه او بد) چې کوئ یې تاسې (نو جزا به پرې درکړي).

تفسير: یعنې هغه الله تعالی ته دا خبره هم ښه ورمعلومه او ښکاره ده، که بالفرض ستاسې مرګ ملتوي کړي، یا مو له محشره د دنیا په لورې ببرته ورولیږي، نو هلته به بیا څرنګه چارې وکړئ؟.

تمت سورة المنافقون بفضل الله تعالی.

سُورَةُ التَّغَابُنِ

«د (التغابن) سورت مدني دی، (۱۸) آیته دوه رکوع لري، په تلاوت کې (۶۴) او په نزول کې (۱۰۸) سورت دی، وروسته د (التحریم) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۖ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١﴾ هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَمِنْكُمْ مُؤْمِنٌ ۚ

نسبت د پاکۍ کوي الله ته هر هغه چې په اسمانونو کې دي (له علویّاتو سره له اسمانونو) او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي (له سفلیّاتو سره له ځمکې)، خاص همدغه (الله) لره دی ملک باچایي، او هم ده لره ټوله ثنا ستاینه ده، او همدغه (الله) په هر څیز باندې ښه قادر دی. همدغه (الله) هغه ذات دی چې پیدا کړي یې یئ تاسې، پس ځینې له تاسې کافر دي، او ځینې له تاسې مؤمن دي.

تفسیر: د هر چا حکومت او ټولواکي چې په دنیا کې کې لیده کیږي؛ په حقیقت کې هغه د الله تعالی سلطنت او ټولواکي ده، او د هر سړي چې ستاینه او تعریف کاوه شي، هغه په واقع سره د همغه الله تعالی حمد، ثنا او ستاینه ده، همدغه پاک الله تعالی ځمونږ او د ټولو مخلوقاتو خالق او پیدا کوونکی دی، او ښاییږي چې ټولو به په ده باندې ایمان راوړی وي، او د هغه حقیقي منعم اطاعت به یې کړی وي، مګر ځینې کسان منکران شول، او ځینې ایمانداران وګرځېدل، بېشکه چې الله تعالی هر سړي ته داسې یو قوّت او استعداد وربښلی دی، چې د هر لوري د حرکت او د تګ قوّت په کې شته، الله تعالی ړومبی ټولو خلق په صحیح فطرت سره پیدا کړل، بیا ځینې پخپل همغه صحیح فطرت باندې ټینګ پاتې شول، او ځنې نور له شاوخوا له حالاتو څخه متأثر شول.

وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢﴾ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ۖ وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ ﴿٣﴾

او الله په هغه څه چې کوئ تاسې ښه لیدونکی دی. پیدا کړي یې دي اسمانونه او ځمکه په تدبیر حق سره، او صورتونه یې ترلې دي ستاسې بیا یې ښایسته کړي دي صورتونه ستاسې، او هغه (الله) ته ببرته ورتلل دي ستاسې.

تفسیر: په ټولو ساکښانو (ذي روحو) کې د انسان خلقت ښه دی، په لیدلو کې ډېر ښه ښکاري، پخپلو ملکاتو او قواوو هم له ټول عالم څخه لوړ، غوړ او ممتاز دی، بلکه د ټولو ښو مجموعه ده.

يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ۚ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٤﴾ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَبْلُ فَذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٥﴾

ښه معلوم دي دغه (الله) ته هغه څه چې په اسمانونو او په ځمکه کې دي، او ښه معلوم دي دغه (الله) ته هغه څه چې پټوئ تاسې او هغه څه چې ښکاره کوئ يې تاسې، او الله ته ښه معلوم دي هغه پټې خبرې چې په سينو زړونو ستاسې کې دي. آيا نه دی راغلی تاسې ته ای منکرانو خبر د هغو کسانو چې منکران شوي دي پخوا له دې نه؟، پس ويې څکل وبال سزا د کار خپل، او شته دوی ته عذاب دردناک.

تفسير: يعنې له تاسې څخه پخوا ډېر قومونه لکه عاد او ثمود او نور هلاک شوي دي، او د آخرت عذاب جلا دی، دا خطاب د مکې مکرّمې هستېدونکيو لپاره دی.

ذٰلِكَ بِأَنَّهٗ كَانَتْ تَّأْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالُوْٓا اَبَشَرٌ يَّهْدُوْنَنَا فَكَفَرُوْا وَتَوَلَّوْا

دا (عذاب دوی ته) د دې لپاره دی چې وو به دوی چې راتلل به دوی ته رسولان د دوی په ښکاره دلائلو سره، نو ويل به دوی (تعجّبًا وتسمخرًا) چې آيا بشر سړی (لکه مونږ) لاره ښيي مونږ ته، بيا به کافران شول (په رسولانو) او مخونه به يې وګرځول.

تفسير: يعنې ځمونږ غوندې پر يوه سړي باندې يې د لارې ښوونې او د هادي نوم ايښی، او هغه يې مونږ ته رالېږلی دی؟ که مونږ ته هادي لېږونکی وو، نو ښايي پرښته يې رالېږلې وی، ګواکې د دوی په نزد د بشريت او رسالت په منځ کې منافات وو، نو ځکه هغوی خپلو ځانونو ته کفر غوره کړ، او د پيغمبرانو د خبرو له منلو څخه يې مخ واړاوه.

وَّاسْتَغْنَى اللّٰهُ ۭ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ۝

او بې پروا غني دی الله (له ايمان د خلقو)، او الله غني بې پروا دی (له عبادت)، او ډېر ستايلی شوی دی (بې له ستايلو د خلقو).

تفسير: يعنې د الله تعالى څه پروا ده، که هغوی مخ واړوي، يا غاړه وغړي؛ نو الله هم له هغوی ځنې د خپل رحمت نظر اړوي.

زَعَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ لَّنْ يُّبْعَثُوْا ۭ

دعوی کوي هغه کسان چې کافران شوي دي چې له سره به بيا ژوندي راپورته نه کړی شي دوی.

تفسير: هم هغسې چې دغه کُفّار پخپل زعم د انبياوو له رسالت څخه انکار کوي، د بعث بعد الموت ځنې هم انکار کوي.

قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۭ وَذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝

ووايه (ای محمده دوی ته چې) هو بيا به ژوندي راپورته کړی شئ، قسم دی په رب ځما چې خامخا ژوندي پورته به کړل شئ هرومرو تاسې (پس له مرګه)، بيا خامخا خبر به کړی شئ تاسې هرومرو په هغه څه چې کړي دي تاسې په دنيا کې، او دا (ژوندي پاڅول جزاء ورکول) په الله باندې ډېر اسان دي.

تفسير: يعنې د دويم ځلي بيا ژوندي کول او د ګردو حساب، کتاب اخيستل الله تعالى ته کوم سخت او ګران او مشکل کار نه دى، پوره يقين ولرئ ! چې دا کار ضرور کېدونکى دى، د چا له انکار کولو څخه هغه ټاکلى شوى کار هيڅ وړاندې وروسته نه کيږي، نو ځکه ښايي چې تاسې انکار پرېږدئ، او د هغې ورځې په فکر کې ولوږئ.

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِيْٓ اَنْزَلْنَا ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝

نو ايمان راوړئ په الله او په رسول د ده (محمّد) باندې، او په هغې رڼا (قرآن) باندې چې نازل کړى دى مونږ، او الله په هغه څه چې کوئ يې تاسې ښه خبردار دى.

تفسير: يعنې ايمان سره عمل هم يو ضروري شى دى.

يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ ۭ ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ۭ

(ياد کړه) هغه ورځ چې راجمع به کړي (او خبر به درکړي الله) تاسو لره په ورځ د جمع کېدلو (قيامت) کې، دا (ورځ چې ده) ورځ د نفعې او نقصان ده.

تفسير: يعنې دوزخيان به پرې کيږي، او جنّتيان به کاميابيږي، پرې کېدل دا چې هغوى به د الله تعالى ورکړي قوّتونه بېځايه لګولي وي، رأس المال او پنګه به يې هم له لاسه وتلي وي، برى دا چې د لويې فائدې په بدل کې په زرهاوو ښه مومي، اوس د همدې خبرې لږ څه تفصيل داسې راځي چې:

وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ

او هغه چې ايمان راوړي په الله او وکړي عمل نېک؛ لرې به کړي (الله) له ده څخه بدي د ده.

تفسير: يعنې هغه تقصيرات چې شوي دي؛ د ايمان او ښو کارونو له وجې معاف او ښلى کيږي.

وَيُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝

او داخل به کړي (الله) دغه (صالح مؤمن) په هغو جنّتونو کې چې بهيږي له لاندې (د ونو او مانيو) د هغو (ځلور قسمه) ويالې، تل به وي دوى په هغه کې ابدي همېشه، دغه (مغفرت او جنّت) برى خلاصى ډېر لوى دى.

تفسير: يعنې هر ځوک چې جنّت ته ورسيږي؛ ټول مرادونه يې په لاس ورځي، ځکه چې جنّت د الله تعالى د ليدلو او د هغه د رضاء موندلو ځاى دى.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝ مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ ۭ

او هغه کسان چې کافران شوي دي او نسبت د دروغو کوي آيتونو ځمونږ ته، دغه کسان دي ياران ملګري د دوزخ، تل به وي دوى په هغه (دوزخ) کې، او بد ځاى د ورتللو دى (دوزخ). نه رسيږي هيڅ مصيبت، غم، درد هيڅاته مګر خو (رسيږي) په اذن حکم د الله سره، او هغه څوک چې ايمان يې راوړى دى په الله باندې؛ لاره ښيي (الله) زړه د ده ته (د صبر او ثبات).

تفسير: په دنيا کې هيڅ يوه سختي او مصيبت بې د الله تعالى له رضا، مشيت څخه نه رسيږي، کله چې مؤمنان په دې خبره باندې يقين او باور ولري؛ نو نه ښايي چې په هغه باندې خفه شي، بلکه په هر وخت او په هر حال باندې د هغه په فيصلې باندې رضا وي، او تل دې هسې وينا وکړي، تر څو چې الله تعالى يې زړه کلک کړی، او پدې وپوهيږي چې هر څه د الله تعالى له جانبه دي.

وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١١﴾

او الله په هر څيز باندې ښه عالم دانا دی (پر شاکرانو صابرانو).

تفسير: يعنې هغه تکليف او مصيبت چې د الله تعالى له لوري رارسيږي؛ د هغه عين علم او حکمت دی، همغه الله تعالى ته ښه معلوم دي چې کوم يو له مونږ څنې د واقعي صبر، تسليم او رضا په سمه لاره ځي؟ او د چا زړه د کومو احوالو او کيفياتو د مورد ګرځېدلو وړ دی؟.

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ ۚ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَإِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿١٢﴾

او حکم ومنئ تاسې د الله، او حکم ومنئ تاسې د رسول (د دغه الله)، پس که مخ وګرځوه تاسې (له طاعته؛ نو د تاسې نقصان دی، رسول ته څه زيان نه رسيږي ،ځکه چې) نو بېشکه په رسول ځما باندې رسونه ښکاره ده (او خپل تبليغ يې کړی دی).

تفسير: يعنې په نرمی، سختی، تکليف، راحت او په هر صورت کې د الله تعالى او د هغه د رسول حکم ومنئ !، که نه ستاسې خپل نقصان دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم خو تاسې ته ټول ښه او بد درپوهولي دي، او خپل فرض يې ادا کړی دی، او الله تعالى ته ستاسې له اطاعت يا معصيت څخه هيڅ يو ضرر يا ګټه نه وورسيږي.

اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٣﴾

الله (يو دی) نشته هيڅوک وړ د عبادت مګر خو همدی دی، او خاص يوائې پر الله باندې پس توکل دې وکړي مؤمنان.

تفسير: يعنې معبود او مستعان يوائې د الله تعالى لوی ذات دی، بل څوک د بندګۍ او د هيلې او د اسرې وړ نه دی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ! بېشکه ځينې له ښځو ستاسې او (ځينې له) ځامنو ستاسې دښمنان دي تاسې لره.

تفسير: ډېر ځلې داسې کيږي چې سړی د ښځې او ځامنو په مينه او محبت کې داسې اخته کيږي، چې د الله تعالى له ياده غافليږي، او د داسې تعلّقاتو لامله نور ډېر خراب کارونه هم کوي، او له ډېرو ښو څخه بې برخې پاتې کيږي، د ښځې او اولاد غوښتنې او د هغوی خوښ ساتل هيڅکله دې نه پرېږدي چې بل شي تـه خپل فکـر واړوي، د آخرت فکر ترې هيريږي، کله چې د آل او عيال د سړي د داسې ضرر او نقصان سبب وګرځي، هغه يې دوستان نه بلل کيږي، بلکه داسې دښمنان دي چې سړی د دوی د دې دښمنی احساس نشي کولی، نو ځکه الله تعالى مو ويښوي چې ځانونه مو له داسې دښمنانو څخه ساتئ !، او له هسې چارو ځنې لرې ګرځئ چې د هغو په وسيله دنيا تاسې ته ډېره ښه ښکاره شي،

او آخرت مو له یاده ووځي، او د دنیا لامله مو دین له لاسه وران شي، ولې داسې نه دي چې په دنیا کې ګردې ښځې یا ټوله اولاده او خپلوان هسې وي، چې سړی د آخرت له یاده غافلوي، بلکه ځینې بختورې ښځې او هلکان داسې هم وي چې له خپلو مېړو او پلرونو سره د هغوی د دین په حفاظت کې مرستې کوي، او په ښو چارو کې هغوی ته لار ښوونه او لاس نیونه کوي، او هغوی ته عابدې ښځې نعم الصاحبات او نېک مرغې اولاده باقیات الصالحات ګرځي: (جعلنا الله منهم بفضله ومنّه).

فَاحْذَرُوهُمْ ۚ وَإِن تَعْفُوا وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤﴾

نو ځان وساتئ تاسې له دوی څخه (په مقابل د حکم د الله او د دوی لحاظ مه کوئ)، او که عفوه او ګزشت وکړئ تاسو، او مخ وګرځوئ تاسو، او مغفرت وکړئ تاسې؛ پس بېشکه الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیّاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسیر: یعنې که دوی له تاسې سره دښمني وکړه، او تاسې ته دیني یا دنیوي زیان ورسېد؛ نو د هغه اثر او اغېزه به داسې کیږي چې تاسې به په انتقام او کسات پسې لوېږئ، او پر هغوی باندې به نامناسبه سختي شروع کوئ، نو له داسې کولو څخه به د دنیا انتظام خرابیږي، تر هغه ځایه پورې چې عقلاً او شرعًا ګنجایش وي؛ له هسې حماقتونو، تقصیراتو ځنې تېرېږئ او ښئ یې !، انتقام او کسات پسې مه ګرځئ !، چې په داسې مکارمو اخلاقو سره به الله تعالی پر تاسې باندې مهرباني کوي او ستاسې خطاوې ښې.

إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۚ وَاللَّهُ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٥﴾

بېشکه همدا خبره ده چې مالونه ستاسې او اولاد ستاسې یوه فتنه ازمویښت دی، او الله چې دی په نزد د ده دی اجر ثواب ډېر لوی.

تفسیر: یعنې الله تعالی تاسې ته مال او اولاد درکوي او تاسې پرې ازمویي، چې کوم یو له تاسې څخه په داسې فاني او زائلو شیانو کې اخته کیږي؟ او کوم یو له تاسې ځنې د فاني شیانو نه د خپل آخرت پنګه او ذخیره ګرځوي؟ او د آخرت ډېر لوی اجر او ثواب د دې ځای پر حظوظو او مالونو باندې ښه بولي، او ترجیح ورکوي؟ او یا أخروي باقي او غیر فاني نعمتونه هېروي، او په بدل یې دغه زائل او فاني شیان اخلي؟.

فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنفِقُوا خَيْرًا لِّأَنفُسِكُمْ ۗ

نو وویر ېږئ تاسې له الله څومره چې توانېږئ تاسې، او واورئ (خبرې د الله په سماع د قبول سره)، او اطاعت کوئ (د احکام الله)، او نفقه کوئ لګوئ ښه شیان لپاره (د نفعې) د ځانونو خپلو، یا دا غوره ده ستاسو لپاره.

تفسیر: یعنې تر څو مو چې له وسه کیږي له الله تعالی ځنې وویر ېږئ، او په دې امتحان او ازموینه کې ثابت قدم اوسئ !، او د هغه احکام واورئ !، او عمل پرې وکړئ !.

وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٦﴾

او هغه چې وساتلی شي له حرص بخیلی د نفس خپل څخه؛ نو دا کسان همدوی دي بریالیان په مراد رسېدلي (بچ شوي له عذابه په دواړه دارینو کې).

تفسير: يعنې د الله تعالى په لاره کې به له نفقه کولو او له مال لګولو څخه ستاسې خپلې ښېګڼې کيږي، او همغه سړی بريالی او په مراد رسيږي چې الله تعالى د هغه زړه له دې اندېښنې غوښتنې ځنې پاک ساتلی وي، او حرص، بخل، طمع او کنسکي لار په کې ونه لري.

إِنْ تُقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَاعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ

که چېرې قرض پور ورکړئ تاسې الله لره (په هغه څه چې فرمايلي يې دي) قرض پور نېک؛ نو دو چنده به کړي (الله ثواب د) هغه (پور) تاسې ته او مغفرت به وکړي (الله) تاسې ته.

تفسير: يعنې د الله تعالى په لاره کې په اخلاص او نېک نيّت سره له خپل حلال او طيب مال ځنې صرف کړئ او ويې لګوئ !، تر څو الله تعالى تاسې ته څو چنده له هغه ځنې زيات ثواب درکړي، او ستاسې ګردې خطاوې او تجاوزات وښېي، همداسې يو مضمون پخوا له دې څخه هم تېر شوی دی، پوره تقرير دې هلته وکوت شي !.

وَاللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٧﴾

او الله ښه قدردان دی ښه تحمّل والا دی.

تفسير: د قدر پېژندلو خبره دا ده چې په لږ عمل سره ډېر ثواب ورکوي، او تحمّل يې دا دی چې د ګناه په ليدلو سره سمدلاسه عذاب نه مقرروي، بيا هم د ډېرو ګناهګارانو جرم ښېي، او د ډېرو سزا تخفيف کوي.

عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١٨﴾

عالم پوهېدونکی د پټ او ښکاره دی، ښه غالب قوي دی ډېر حکمت والا دی.

تفسير: يعنې الله تعالى په ښکاره کارونو او پټو نيتونو باندې عليم او خبير ښه دانا او بينا دی، او سم د خپل زبردست قوّت او حکمت سره هر چاته بدل ورکوي.

تمّت سورة التغابن بفضل الله تعالى ومنّه، ولله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الطَّلَاقِ

«د (الطلاق) سورت مدني دی، (۱۲) آیت (۲) رکوع لري، په تلاوت کې (۶۵) او په نزول کې (۹۹) سورت دی، وروسته د (الإنسان) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ

ای نبي ! (ووایه امّت خپل ته) کله چې اراده وکړئ طلاقوئ تاسو ښځې؛ نو طلاقوئ یې په (وخت د) عدّت د دوي کې (په طُهر کې چې خالي له جماع وي).

تفسیر: اګر که دلته مخاطب نبي صلی الله علیه وسلم دی، مګر په واقع کې ګرد امّت مخاطب دی، یعنې کله چې کوم سړی بیا په کوم ضرورت یا د مجبوریت له کبله د خپلې ښځې د طلاق ورکولو اراده وکړي، نو ښایي چې هغه دې په عدّت سره طلاق ورکړي.

په طلاق ورکولو کې مشروعه طریقه دا ده چې په طُهر کې دې طلاق ورکړی شي، او له احادیثو څخه هم دا قید ثابتیږي، چې په هغه طهر کې چې کوروالی او صحبت په کې نه وي شوی؛ ښایي مېړه خپلې ښځې ته طلاق ورکړي.

وَأَحْصُوا الْعِدَّةَ

او وشمېرئ وساتئ تاسو عدّت (د ښځو خپلو).

تفسیر: نارینه او ښځې دواړو ته ښایي چې دا خبره په یاد ولري چې چېرې د غفلت او سهوې په وسیله له دوی ځنې کومه سهوه او بې احتیاطي ونشي، او څه لاندې باندې په منځ کې رانشي، او هم ښایي چې طلاق داسې ورکړ شي چې د عدّت په شمېر کې هیڅ شاني ډېروالی او لږوالی رانشي.

وَاتَّقُوا اللَّهَ رَبَّكُمْ لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِن بُيُوتِهِنَّ

او وویرېږئ تاسو له الله چې رب (پالونکی) د تاسې (دی)، مه وباسئ (ای خاوندانو) دغه (ښځې خپلې) له کورونو خپلو څخه (چې په کې اوسي دوی، تر هغه پورې چې یې تېر شي عدّت).

تفسیر: یعنې له الله څخه وویرېږئ، او په شرعي احکامو باندې پابندي ولرئ !، چې له هغو څخه یو حکم دا دی چې د حیض په حالت کې دې طلاق ور نه کړ شي !، او درې طلاق دې یو ځای ور نه کړ شي !، او مطلّقه ښځه دې له کوره د باندې ونه ایستله شي !، او د دې په شان د الله أکرم شأنُه وأعظم برهانُهُ نورې ښوونې هم په اخلاص سره منئ !.

وَلَا يَخْرُجْنَ إِلَّا أَن يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ

او نه دې وځي دغه (ښځې هم پخپله له کورو نه تر څو چې عدّت د دوی تېر شي) مګر هلته چې راشي دوی په فاحشه بې حیایي ښکاره سره (لکه زنا).

تفسير: يعنې ښځې دې پخپله خوښه هم نه وځي، ځکه چې دا سُکنَى محض حق العبد نه دى چې د هغه په رضا سره ساقطه شي، بلکه حق الشّرع دى، هو ! که ښځه کومه ښکاره بېحيايي وکړي، يا په بدو چارو ځغرد وکړي، يا د غلا مرتکبه شي، يا د ځينو علماوو په قول: زڼه وکړي، يا تل په جنګ جنجال او جګړه کې لګيا وي، او بې له غمه او خفګانه يې بل کار نه وي؛ نو ايستل يې روا دي، که دا ښځه بې موجبه له کوره ووځي؛ نو دا پخپله د دې د صريحې بې حيايۍ يو کار دى.

وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ؕ

او دا (احکام) حدود اندازه کړى شوي د الله دي، او هر هغه چې تيريږي له حدودو د الله څخه؛ نو په تحقيق ظلم يې کړى دى په ځان خپل باندې.

تفسير: يعنې ګناهګار شوي دي، د الله تعالى په نزد د سزا موجب وګرځېد.

لَا تَدْرِيْ لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ①

نه پوهېږې (ته اى طلاق کوونکيه ! يا نه پوهېږي هيڅ نفس) ښايي چې الله پيدا کړي وروسته له دې طلاق کوم ښه کار او نوى صورت لکه رجوع له طلاقه.

تفسير: يعنې ښايي چې بيا د دواړو په منځ کې روغه او صلحه وشي، او په طلاق باندې پښېمان او نادم شي.

فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ فَارِقُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ

بيا نو کله چې ورسيږي دغه (ښځې) نېټې خپلې ته؛ نو وساتئ (تاسې اى مېړونو) دوى په معروف نېکۍ ښه شان سره، يا جلا شئ تاسې له دوى ځنې په معروف نېکۍ ښه شان سره.

تفسير: يعنې په رجعي طلاق کې کله چې عدّت ختمېدلو ته نژدې شي؛ نو تاسې لره له دوو چارو څخه د يوې چارې اختيار دى، چې يا د عدّت له ختمېدلو څخه پخوا سم له دستوره هغې ښځې ته رجعت او خپلې نکاح ته دوام ورکړئ !، يا د عدّت په ختمېدلو سره په معقولې طريقې باندې له هغې څخه جلا شئ !، مطلب دا که د نکاح ټينګ ساتل مقصد وي؛ نو په هغه وخت کې، او که يې شلول مطلب وي؛ نو په دغه وخت کې ځغرد (ټينګوالى) پرې وکړئ !، او په دواړو صورتونو کې د انسانيت، شرافت اصولو ته په درنه سترګه وګورئ !، او داسې مه کوئ چې ساتنه يې مقصود نه وي، او خامخا د عدّت د اوږدوالي لپاره رجعت وکړئ، يا د ساتلو په صورت کې هغې ته ايذاء ورسوئ، او طعن او تشنيع ور واوروئ !.

وَّاَشْهِدُوْا ذَوَىْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ

او شاهدان نيسئ تاسې (په دغه رجوع باندې) دوه خاوندان د عدل له تاسې څخه.

تفسير: يعنې وروسته له طلاق ورکولو او پخوا د عدّت له پوره کېدلو که د نکاح بيا ساتل غواړئ؛ نو په دې رجعت باندې دوه شاهدان ونيسئ، تر څو د خلقو په نزد متهم نه شئ.

وَاَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ ؕ

او ښه اداء کړئ تاسې شاهدي (اى شاهدانو په وخت د حاجت کې) لپاره د (ثواب او رضا د) الله.

تفسير: په دې کې شاهدانو لره هدايت دی چې د شاهدي ورکولو په وخت کې کړه او خرابه خبره ونه کړي، او سمه صافه او درسته خبره ووايئ !.

ذَٰلِكُمْ يُوعَظُ بِهِ مَن كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ

دا (ساتنه په نېکۍ سره) نصيحت کاوه شي په دې سره هغه چاته چې وي چې ايمان يې راوړی وي په الله او په ورځې وروستۍ (د قيامت) باندې.

تفسير: د جاهليت په زمانه کې پر ښځو باندې زيات ظلمونه کېدل، او له ښځو سره هسې سلوک جاري وو لکه چې له غواوو او خرو سره يې کوي، يا له خورا سختو او ذليلو بنديانو سره کاوه شي، ځينې ښځې به سل سل کرته طلاقېدې، خو سره د هغه به هـم د هغـوی د مصيبت دوره پای (آخر) ته نـه رسېده، قرآن په څو څو ځايونو کې د دې وحشيانه مظالمو او بې رحميو خلاف ويناوې کړي دي، او د نکاح او د طلاق په حدودو او حقوقو باندې په ډېر ښه ډول سره زور غورځولی دی، بالخصوص د دې سورت په منځ کې په نورو حکيمانه وو هدايتو او نصيحتو کې يې يو نهايت جامع او مانع او ټول ښوونکی اصول بيان فرمايلی دی چې: ﴿فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ﴾ دی، چې د هغه حاصل دا دی چې که يې ساتئ؛ نو په معقوله ډول او طريقې سره يې وساتئ !، او که يې پرېږدئ؛ نو هم په معقوله طريقه سره يې پرېږدئ !، خو له دې ښو او زرينو نصيحتو څخه هغه سړی منتفع او ګټور کېدی شي چې په الله تعالی او رسول الله صلی الله عليه وسلم او په آخرت باندې يقين لري، ځکه چې همدا باور او يقين د انسان په زړه کې د الله تعالی وېره او خوف پيدا کوي، او د همدې وېرې لامله دا خيال د انسان په فکر کې پيدا کيږي: همغسې چې يوه کمزوره ښځه له بخته او اتفاقه ځمونږ په منګلو او قبضه او اقتدار کې راغلې ده، مونږ هم ټول د يوه لوی قهّار الله تعالی په قبضه او اقتدار کې پراته يو، همدا يو خيال دی چې په هر حال کې سړی له ظلم او تعدّي څخه ساتي، او د الله تعالی په امر منلو باندې اړوي، د دې لپاره په دې سورت کې په مخصوص ډول سره په اتقاء پرهېزګاری او د الله تعالی په وېره باندې زيات امرونه او توصيې شوي دي.

وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ۝٢

او هغه څوک چې ويريږي له الله، ځان ساتي له معاصيو؛ وبه ګرځوي ده ته يو ځای د وتلو (له دنيوي او اخروي غمونو نه).

تفسير: يعنې له الله تعالی ځنې وويرېږئ !، او د هغه د احکامو تعميل په هر حال کې وکړئ !، که څه هم له ډېرو مشکلاتو او شدائدو سره مخامخ شئ، ځکه چې الله تعالی د هغو ګردو مشکلاتو ځنې د وتلو لاره در خلاصوي، او په سختيو کې دګزارې وسيلې هم در برابروي.

وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ

او رزق روزي به ورکړي (الله) ده ته له هغه (ځايه) چې ګمان به نه کوي دی.

تفسير: د الله تعالی څخه وېره د دواړو دارينو د خزانو کنجي ده، او د ګردو بريو او کاميابـيو وسيله ده، له همدې ځنې ګرد مشکلات اسانيږي، بې قياس او بې ګمانه يې رزق روزي او خواړه ور رسيږي، ګناهونه يې بښل کيږي، جنّت ورحاصليږي، ثواب يې زياتيږي، او يوه عجيبه د زړه ډاډينه، سکون، اطمينان او خوښي په برخه او نصيب راځي، چې د هغه لامله بيا هيڅ يوه سختي لکه سختي نه ورښکاري.

وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ ۚ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ﴿٣﴾

او هغه څوک چې توکل وکړي په الله باندې؛ نو دغه (الله) بس کافي دی ده لره (په دواړو جهانو کې)، بېشکه الله رسېدونکی دی امر کار خپل ته، په تحقیق ګرځولې ده الله هر څیز لره اندازه.

تفسیر: یعنې پر الله تعالی باندې هیله او اسره ولرئ، او یواځې پر وسائلو او اسبابو باندې تکیه ونه کړئ !، د الله تعالی قُدرت په دې اسبابو اړه نه لري، د کوم کار د کولو اراده چې الله وفرمایي؛ هغه هرومرو (خامخا) پوره کېدونکی دی، اسباب او وسائل هم د ده د مشیت تابع دی، هو ! د هر څیز اندازه د هغه له خوا ټاکلې شوې ده، چې سم له هغې سره هغه ښکاره کېدونکی دی، نو ځکه که د کوم څیز په حاصلېدو کې څه ډیل ښکاره شي؛ نو متوکّل لره نه ښایي چې ځان خپه یا پرېشان کړي.

وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِن نِّسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ ۚ

او هغه ښځې چې ناامیده شوي وي (په سبب د کبارت یا د مرض) له حیضه له ښځو ستاسې څخې که چېرې په شک کې یئ تاسې؛ نو عدّت د دوی درې میاشتې دی، او همداسې ښځې چې نه وي شوي حائضې (په سبب د صغارت نو درې میاشتې عدّت دې تېروي).

تفسیر: یعنې پاک قرآن د مطلّقې عدّت لکه چې د «البقرة» په سورت کې راغلی دی؛ درې حیضه ښوولی دی، که شبهه او شک پیدا شي چې چاته حیض ورنشي، یا د ډېر عمر او منګ لامله یې حیض بند شوی وي، نو د هغې عدّت به څو وي؟ دا یې راښکاره کړه چې درې میاشتې دی.

وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ

او (ښځې) خاوندانې د بار ګېډې (حاملانې بلاربې) عدّت د دوی دا دی چې وزېږوي دوی بار (حمل) خپل.

تفسیر: د جمهورو په نزد د حاملې عدّت د هغې د حمل تر وضعې او د مولود تر ځېګولو پورې دی، که څه هم هغه یوه لحظه او شېبه وروسته وي، یا تر ډېرو میاشتو پورې وځنډېږي، په دې کې د مطلقې او د کونډې حکم یو دی، لکه چې په احادیثو کې راغلي دي.

وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا ﴿٤﴾ ذَٰلِكَ أَمْرُ اللَّهِ أَنزَلَهُ إِلَيْكُمْ ۚ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا ﴿٥﴾

او هغه څوک چې ویریږي له الله، ځان ساتي له معاصیو؛ نو وبه ګرځوي الله ده ته کار د ده کې اساني. دا (چې ویلی شوی دی) امر حکم د الله دی چې نازل کړی یې دی تاسې ته، او هغه څوک چې ویریږي له الله، ځان ساتي له معاصیو؛ نو لرې به کړي الله له ده څخه ګناهونه د ده، او لوی به کړي (الله) ده لره اجر ثواب (د ده).

تفسیر: د هرې جُملې په آخر کې د اتّقاء او د الله تعالی أکرمَ شأنُه وأعظمَ برهانُه د وېرې مضمون په مختلفو اسالیبو او ډول ډول پیرایو سره یې تکرار کړی دی، تر څو لوستونکي د هغه د بار بار ویلو څخه ډېر ویښ او متنبّه شي، چې د ښځو په معاملاتو کې د دې اتقاء او پرهېزګارۍ ضرورت ډېر زیات دی.

أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ

واوسوئ دا (ښځې طلاقې کړی شوې) په هغه ځای کې چې په کې اوسېږئ تاسې (سم) له طاقت د تاسې (چې توانېږئ !).

تفسير: د نارینه په ذمّه باندې ضرور دي چې خپلې مطلّقې ښځې ته تر عدّت پورې هستوګنې لپاره کور ورکړي، چې هغه ته «سُکنی» وایه شي، نو کله چې «سکنی» واجبه شي؛ نو نفقه هم د هغه په ذمّه ثابتېږي، ځکه چې ښځه دومره موده د ده په کور کې مقیّده او محبوسه پاتې کیږي، د قرآنکریم د دې الفاظو اشاره په همدې لوري ده: ﴿مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَآرُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ﴾.

وَلَا تُضَآرُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ

او مه کوئ اراده د ضرر تاسې د دغو (مطلّقاتو) لره چې تنګوئ به (ځایونه او نفقې) په دوی باندې.

تفسير: یعنې ای مېړونو (خاوندانو) ! ضرر مه رسوئ تاسو دې ښځو طلاقو شوو ته په ځای د هستوګنې چې هغوی په تنګې شي، او په وتلو سره مجبورې شي.

وَإِن كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ

او که چېرته وي دغه (ښځې) خاوندانې د بار ګڼې (حاملانې بلاربې) نو نفقه کوئ تاسې پر دوی باندې تر هغه پورې چې وزېږوي دوی بار (حمل د ګڼې) خپلو (په ځېګډلو سره).

تفسير: د حمل مدّت کله چې ډېر اوږدیږي؛ نو هغه یې په خصوصیت سره راوښود، چې په هغه کې که هومره اوږدوالی هم وشي، خو د حمل تر ځېږېدلو پورې ښایي هغې ته دې نفقه ورکړه شي، او داسې دې ونه کړي چې درې میاشتې نفقه ورکړي، او بیا یې بنده کړي.

فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَأْتَمِرُوا بَيْنَكُم بِمَعْرُوفٍ

نو که تې ورکاوه دوی (پس له طلاقه) اولاد د تاسو لره؛ پس ورکړئ تاسې هغوی لره مزدوري د هغوی، او مصلحت مشوره کوئ (ای ښځو او مېړونو په حق د مولود خپل) په منځونو خپلو کې په معروف نېکی سره.

تفسير: یعنې که له وضع حمل ځخه وروسته ښځې ستاسې له خاطره وړوکي ته شودې ورکوي؛ نو اجرت یې ښایي هومره ورکړ شي لکه نورو تې ورکوونکیو ښځو ته چې ورکاوه کیږي !، او سم له دستوره په معقولې طریقې سره یو له بله د دې وړوکي په نسبت مشوره وکړي، او لازمه قراردادونه وترې، او خامخا ضد او خراب تګ ونه کړي !، او یو له بل سره د نېکی سلوک وکړي، نه دې ښځه د شودو له ورکولو ځخه غاړه غړوي !، او نه دې نارینه له هغې ځنې مخ اړوي چې بلې ښځې ته د دې وړوکي ورکړي، چې د ده د مور په ځای بله ښځه په اجرت سره تې ورکړي.

وَإِن تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُخْرَىٰ

او که سختي وکړئ تاسې (ای والدینو په تي ورکولو او اجرت کې)؛ نو لپاره د تي ورکولو دې طلب کړي هغه (مولود) لره بل ښځه (یعنې دایي دې ورته ونیسي، او په مور باندې دې زور نه کوي).

تفسير: يعني که د مخالفت، ضد لامله ښځه په شودو ورکولو باندې راضي نشي؛ نو نارينه دې هرومرو هغې ته نه ګوري، او بله ښځه دې پيدا کړي چې هغه کوچني ته شودې ورکړي، او که نارينه پر هغې ښځې باندې خپل وړوکی نه پالي، او شودو ته يې نه پريږدي؛ نو خامخا به بله کومه ښځه پيدا کيږي، او په دواړو صورتونو کې به بلې ښځې ته څه ورکول کيږي، نو ولې همدا شی د همغه وړوکي مور ته ورنه کړ شي، چې هم وړوکی په ارام او خوشاله او هم مور پرې ډاډه او بې پروا شي.

لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِۦ ۖ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُۥ فَلْيُنفِقْ مِمَّآ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ۚ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَآ ءَاتَىٰهَا ۚ سَيَجْعَلُ ٱللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ﴿٧﴾

نو نفقه دې ورکوي خاوند د طاقت له طاقته شتو خپلو نه، او هغه چې تنګ کړ شي په ده باندې رزق د هغه، پس نفقه دې کوي له هغه څنې چې ورکړي وي هغه لره الله، نه ورکوي تکليف الله هيڅ نفس لره مګر خو په هغه قدر چې ورکړی وي هغه لره (له ماله)، ژر به ښکاره کړي الله پس له سختی تنګی څخه اساني او پراخي.

تفسير: يعني د ووړکي خرڅ پر پلار باندې دی، مال او شته والا دې د خپل مال او شتو په اندازه خرڅ او نفقه ورکوي، اکرب او نادار دې د خپل نشتوالي په حيثيت نفقه خرڅ کوي، که د کوم سړي په برخه ډېره پراخي او شته نه وي، او دالله جل جلاله له درباره يې لږ رزق او خواړه په برخه شوي وي؛ نو دی دې په هغه کې د خپل ګنجايش او قوّت په نسبت خرڅ وکړي !، ځکه چې الله تعالی هيچا ته د هغه له طاقت څخه زيات تکليف نه ورکوي، کله چې کوم سړی په تنګه کې هم د هغه له احکامو سره خرڅ وکړي؛ نو الله تعالی به هغه سختي او تنګه په اسانۍ او پراختيا سره وربدله کړي.

وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِۦ فَحَاسَبْنَٰهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبْنَٰهَا عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨﴾

او ډېر وو له کليو څخه چې ګرځېدلې سرکښي يې کړې وه له امره د رب خپل، او له (امره حکمه) د رسولانو د دغه (الله) څخه، نو حساب به وکړو مونږ له هغوی سره حساب سخت (په قيامت کې)، او په عذاب به کړو مونږ هغوی په عذاب نااشنا ناکاره سخت سره.

شيخ الهند (رحمة الله عليه) د دې آيت ترجمه داسې کړې ده چې: «او څومره (ډېر) وو له کليو نه چې سرکشي يې کړې وه له حکمونو د رب خپل نه، او له رسولانو د ده نه؛ پس حساب مو وکړ له هغوی سره حساب سخت، او په عذاب مو کړ هغو په ناکاره ناڅاپه عذاب سره.

تفسير: يعني د شريعت د احکامو مخصوصًا د ښځو په نسبت د ګردو حکمونو پوره پابندي ولرئ !، که نافرماني وکړئ؛ نو په ياد يې ولرئ ! چې څومره کلي او ښارونه د الله تعالی او د ده د رسولانو د نافرمانۍ لامله ويجاړ او وران شوي دي، کله چې هغه خلق د تکبّر او ځانمنۍ آخرې درجې ته ورسېدل، او مونږ د هغوی حساب او کتاب ښه او کلک واخيست، او د هغوی يو عمل مو هم بې له پوښتنې پرې نښود، او ټول مو په هسې سخت عذاب او آفت کې اخته کړل چې د هغه نظير او ثاني پخوا له هغه څخه هيڅ ليدلی شوی نه وو.

فَذَاقَتْ وَبَالَ أَمْرِهَا وَكَانَ عَٰقِبَةُ أَمْرِهَا خُسْرًا ﴿٩﴾

نو (وڅکله يا) وبه څکي هغوی سزا د کار خپل (په دنيا کې)، او دی عاقبت آخر د کار د دوی زيان (په آخرت کې چې حرمان دی له جنّتونو).

تفسير: يعني هغه سودا، بيع او شراء، پلورل او پيرودل (اخيستل او خرڅول) چې يې په ټول عمر کې کړي وو، آخر يې په هغو کې سخت نقصان وموند، تر دې چې پانګه يې هم له لاسه ووتله.

أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا

تيار کړی دی الله هغوی ته عذاب سخت (په دارينو کې).

تفسير: د مخه د دنيوي عذاب ذکر وو، دا د أخروي عذاب ذکر دی.

فَاتَّقُوا اللَّهَ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ الَّذِينَ آمَنُوا

نو وويرېږئ له الله، ځان وساتئ ای خاوندانو د عقلونو هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی.

تفسير: يعني د دې عبرتناکو واقعاتو له اوړېدلو څخه عقلمند ايماندارانو ته ويرېدل په کار دي، او مونږ لره داسې کار کول نه ښايي چې د هغه لامله د الله تعالى د قهر او د خپګان مورد وګرځو، العياذ بالله.

قَدْ أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا

په تحقيق نازل کړی دی الله تاسې ته ذکر نصيحت (قرآن).

تفسير: يعني قرآن، که له (ذکر) څخې (ذاکر) مراد وي، نو هغه پخپله رسول دی.

رَسُولًا يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِ اللَّهِ مُبَيِّنَاتٍ

رسول (چې محمد) دی لولي په تاسې باندې آيتونه د الله چې ښکاره کوونکي دي (د احکامو).

تفسير: يعني ښکاره ښيي او آيات چې په هغو کې د الله تعالى احکام په ډېر ښه ډول سره اوړولی شوي دي.

لِيُخْرِجَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ

لپاره د دې چې وباسي (الله) هغه کسان چې ايمان يې راوړی او کړي يې دي ښه عملونه له ظلمتونو تيارو (د جهل او کفر) څخه رڼا (د علم او ايمان) ته.

تفسير: يعني د کفر او د جهل له ظلمت او تيارو څخې ايستلي د ايمان او د عمل رڼا ته مو لار ښوولې ده.

وَمَنْ يُؤْمِنْ بِاللَّهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا قَدْ أَحْسَنَ اللَّهُ لَهُ رِزْقًا

او هغه چې ايمان راوړي په الله باندې، او وکړي ښه (عمل)؛ نو داخل به کړي (الله) ده لره په جنّتونو کې چې بهيږي له لاندې (د مانيو او ونو) د هغو ويالې، تل به اوسېدونکي وي دوی په هغو کې ابدي همېشه، په تحقيق ښه ورکړی دی الله هغه ته رزق روزي.

تفسير: او له جنّت څخه زيات ښه رزق، خواړه او روزي چېرې موندل کيږي !؟.

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ

الله هغه (ذات) دی چې پیدا کړي یې دي اوه اسمانونه او (پیدا کړي یې دي) له ځمکې څخه په مثل د دې (اوه اسمانونو اوه ځمکې).

تفسیر: یعنې اوه ځمکې هم پیدا کړي دي، لکه چې د (ترمذي) او نورو په احادیثو کې راغلي دي.

یَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَیْنَهُنَّ

نازلیږي امر حکم (د الله) په منځ د دغو (اسمانونو او ځمکو) کې.

تفسیر: یعنې د عالم د انتظام او تدبیر لپاره د الله تعالی تکویني او تشریعي احکام په اسمانونو او ځمکه کې راښکته کیږي.

لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَیْءٍ عِلْمًا ﴿۱۲﴾

(پوهوي مو) تر څو چې وپوهیږئ تاسې چې بېشکه الله پر هر څیز باندې ښه قادر دی، او (پوه شئ) بېشکه چې الله په تحقیق احاطه فرمایلې ده رسېدلی دی هر شي ته له جهته د علمه قدرته.

تفسیر: یعنې د اسمان او د ځمکې د پیدا کولو او د هغو د انتظامي احکامو له جاري کولو څخه دا مقصود دی چې د الله تعالی د علم او د قدرت د صفاتو اظهار وشي، دا خبره د «ابن القیّم» (رحمة الله علیه) له لوري په (بدائع الفوائد) کې څرګنده شوې ده.

تمّت سورة الطلاق، ولله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ التَّحْرِيمِ

«د (التحريم) سورت مدني دی، (۱۲) آيتونه او (۲) رکوع لري، په تلاوت کې (۶۶) او په نزول کې (۱۰۷) سورت دی، وروسته د (الحجرات) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

د نبي صلی الله عليه وسلم هسې عادوت وو چې وروسته له مازديګره د خپلو ټولو مطهّراتو ازواجو کره د ځو لحظو او شېبو له مخې ورته، يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپلې ښځې أم المؤمنين بي بي «زينب» رضي الله تعالى عنها په کور کې لږ شانې ډيل وفرمايه، وروسته دا ښکاره شوه چې دوی هلته د هغه عسل شات ګېينه څخه څه خوړلي وو، چې د دوی په مخ کې ور وړاندې کړی شوي وه، دا د شاتو او د ګېينو د خوړلو ډيل او وقفه په هره ورځ پرله پسې پېښېده، تر څو چې أم المؤمنين بي بي «عائشة الصديقة» رضي الله تعالى عنها او أمّ المؤمنين بي بي «حفصة» رضي الله تعالى عنها سره ملګرې شوې، او داسې تدبير يې جوړ کړو چې د هغې لامله نه يواځې رسول أكرم صلی الله عليه وسلم د شاتو د شربت څښل د هغې کره پرېښود، بلکه بي بي «حفصة» رضي الله تعالى عنها ته يې وفرمايل چې: «ما د زينب کره د شاتو شربت څښلی وو، اوس قسم خورم چې وروسته له دې نه يې نه څښم»، لکه چې د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم په خيال دا خبره هم تېره شوې وه: که له دې خبرې څخه أم المؤمنين بي بي «زينب» رضي الله تعالى عنها خبره شي؛ نو هرومرو خپه کيږي، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم «حفصې» رضي الله تعالى عنها ته يې دا هم فرمايلي وو چې: «له دې خبرې هيڅا ته څه ونه وايې»، همداسې يوه خبره د أم المؤمنين بي بي «مارية القبطية» رضي الله تعالى عنها په نسبت هم پېښه شوې وه، «مارية القبطية» هم د رسول أكرم صلی الله عليه وسلم ماندينه (بي بي) وه، چې د دې له ګډې څخه د دوی ځوی ابراهيم رضي الله عنه ځېرېدلی وو، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د نورو ازواجو د خوښۍ لپاره قسم خوړلی وو چې: «پس له دې نه به د هغې کره نه ځم»، او دا خبره نشي، خو بي بي «حفصة» رضي الله تعالى عنها له دې خبرې څخه په پټه بي بي عائشې رضي الله تعالى عنها ته خبر ورکړ، او دا يې هم ورته وويل چې: پټه يې وساتي، دلته د الله تعالى له لوري دا خبرې ځمونږ پيغمبر ته ورښکاره شوې، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم بي بي «حفصة» رضي الله تعالى عنها ته وفرمايل چې: «ولې دې له دې خبرې ځنې نورې خبرې کړي دي؟ چې په ټينګه سره مې درته ويلي وو چې پټه يې وساته»، نو هغوی په تعجّب سره وويل: «تاسې ته دا خبر چا درکړی دی؟ نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې: «الله تعالى ماته له دې خبرې ځنې خبر راکړی دی»، د همدې پېښې په لړ کې دا آيتونه راښکته شوي دي.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ ۖ تَبْتَغِي مَرْضَاتَ أَزْوَاجِكَ ۚ

ای نبي (ای ځما پيغمبره !) ولې حراموي ته هغه چې حلال کړي دي الله تاته، غواړې ته (په دې حراملو سره) خوښي د ښځو خپلو.

تفسير: د حلال شي په ځان باندې د حراملو مقصد داسې دی چې د هغه په نسبت چې د عقيدې له مخې حلال او مباح ګڼې، هسې عهد او پيمان وکړي چې وروسته له دې نه به يې نه استعمالوم، که داسې کول د کوم صحيح مصلحت پر بناء وي؛ نو شرعًا جائز دی، مګر د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د رفيع شأن سره دا وړ او مناسب نه وو چې د ځينو ازواجو

د خوښۍ لپاره داسې یوه (اسوه) قائمه کړي چې وروسته له دې نه به د هغه د امّت لپاره د تکلیف سبب وګرځي، نو ځکه الله تعالی خپل رسول یې متنبّه وفرمایه چې ازواجو سره بېشکه خوش اخلاقي کول او په مینې او محبت سره سلوک لرل ښه کار دی، مګر نه په دې اندازه او مېچ چې یو حلال شی پر ځان باندې حرام کړي، او خامخا ځان په ربړ او تکلیف کې واچوي.

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ①

او الله بښونکی دی ډېر رحم کوونکی دی.

تفسیر: چې ګناه ښېي، او له تاسې ځنې کومه ګناه هم نه ده شوې، یواځې پخپلې درجې کې یو خلاف اوْلی خبره دې له خولې څخه وتلې وه.

قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ اَيْمَانِكُمْ ۚ وَاللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ②

په تحقیق مقرر کړی دی الله تاسې لره حلالوالی د قسمونو ستاسې (په کفّارت سره) او الله مولی دوست مددګار ستاسې دی، او همدغه (الله) ښه عالم دانا دی، ښه حکمت والا دی.

تفسیر: یعني هغه مالك الملك أعلى شأنُه وأعظم برهانُه د خپل علم او حکمت له مخې تاسې ته مناسب احکام او هدایات درلیږلي دي، چې له هغو څخه دا دي: که کوم سړی په یوه نامناسب شي باندې قسم وخوري؛ نو کفّاره دې ورکړي، او خپل قسم دې حلال کړي، چې د هغه ذکر د «المائدة» په سورت کې راغلی دی.

وَاِذْ اَسَرَّ النَّبِيُّ اِلٰى بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ حَدِيْثًا ۚ فَلَمَّا نَبَّاَتْ بِهٖ وَاَظْهَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهٗ وَاَعْرَضَ عَنْۢ بَعْضٍ ۚ فَلَمَّا نَبَّاَهَا بِهٖ قَالَتْ مَنْ اَنْۢبَاَكَ هٰذَا ۭ قَالَ نَبَّاَنِيَ الْعَلِيْمُ الْخَبِيْرُ ③

کله چې پټ راز ووایه پیغمبر ځینو ښځو خپلو ته یوه خبره (چې تحریم د عسلو د ماریې یا د زینبې وو)، نو کله چې خبر ورکړ هغې (حفصې) په دې (خبرې) سره (عائشې ته) او ښکاره کړه هغه خبره الله پر دغه (خپل نبي پیغمبر) باندې؛ نو ور وپېژندله (نبي حفصې ته) له ځینو هغو (خبرو) سره، او مخ یې واړوو له ځینو خبرو، وویل دې (حفصې) چې چا خبر کړې ته په دې باندې، وویل (نبي) خبر کړی یم زه ښه عالم دانا ښه خبردار (الله په اسرارو د کائناتو).

تفسیر: د دې سورت په شروع کې تاسې د شاتو او د ماریې قبطیې قصې ولوستلې، په آیت کې دا راښوولې شوې چې: بنده د یوې خبرې په هغومره پټو ساتلو کې چې کوښښ وکړي، نو کله چې الله تعالی د هغې ښکاره کول وغواړي؛ نو هیڅ کله هغه پټه نه پاتې کیږي، او هم د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د حسن معاشرت او د اخلاقو د وسعت ثبوت له دې څخه لا ښه ثابتیږي، چې په هغو چارو کې چې د دوی د طبیعت په خلاف پېښیدې، تر کومې اندازې پورې تساهل او اغماض فرمایه، او څرنګه یې د عفوې او د کرم له لارې ځنې خبرو ته کتل، ګواکې د شکایت په وخت کې یې پوره الزام نه ورکاوه.

اِنْ تَتُوْبَآ اِلَى اللّٰهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا ۚ

که توبه وباسئ تاسې دواړه (ای بیبیانو) الله ته (قبوله به شي)، نو په تحقیق کاږه شوي دي زړونه د تاسې دواړو.

تفسير: دا خطاب بي بي عائشې او بي بي حفصې رضي الله تعالى عنهما ته دى، كه تاسې توبه وباسئ؛ نو بېشكه د توبې ايستلو موقع ده، ځكه چې ستاسې زړونه د اعتدال له لارې ځني كاږه شوي دي، نو ښايي چې بيا هسې د بې اعتدالۍ په لوري لاړې نشئ، او د بې اعتدالۍ ځني ځانونه وژغورئ.

وَإِنْ تَظٰهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوْلٰىهُ وَجِبْرِيلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ ۖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ ظَهِيرٌ ﴿٤﴾

او كه مرستې وكړئ تاسې دواړه يو له بلې سره (په ضرر د دغه نبي باندې)؛ نو بېشكه الله همغه مددګار دى د هغه (نبي) او جبريل او صالح د مؤمنانو (يې هم مددګاران دي) او ملائكې (يې هم) وروسته له دغه (مددګارۍ نه) مددګاراني دي.

تفسير: د زوجينو په كورنيو چارو كې ځينې اوقات ځينې خبرې ړومبى ډېرې معمولي او وړوكې په نظر راځي، خو كه لږ څه عنان او ملونه يې سسته پرې ښوده شي؛ نو په پاى كې هغه ډېر يو ويروونكى او خطرناك شكل ځان ته غوره كوي، په تېره بيا ښځه كه كومې لويې كورنۍ ته منسوبه وي؛ نو هغه طبعًا پخپل پلار، ورور، خپلوانو او كورنۍ باندې نازيږي، نو ځكه يې تنبيه وفرمايله چې وګورئ ! كه تاسې دا راز مرستې، ملګرتيا او ښوونې كوئ؛ نو په ياد يې ولرئ چې له هغه څخه پيغمبر ته هيڅ ضرر نه رسيږي، ولې چې الله تعالى پرښتې او نېك بخت ايمان لرونكي درجه په درجه چې دچا مرسته كوونكي او رفيقان او مددګاران وي، نو د هغه په مقابل كې د بل كوم انسان تدبير نه چليږي، هو ! يوائې له هسې چارو ځني تاسې ته نقصان در پېښيږي.

عَسٰى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ مُسْلِمٰتٍ مُؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ تٰئِبٰتٍ عٰبِدٰتٍ سٰئِحٰتٍ ثَيِّبٰتٍ وَأَبْكَارًا ﴿٥﴾

نژدې دى (او قادر دى) رب د دغه (نبي) كه چېرې طلاق دركړي تاسې ټولو ته په دې چې بدل وركړي ده لره نورې ښځې بهترې له تاسې څخه (په سيرت او صورت كې)، حكم منونكې، مؤمنانې، لمونځ كوونكې، توبه ايستونكې، عبادت كوونكې، روژه كوونكې، هجرت كوونكې، كونډې او پېغلې.

تفسير: يعنې داسې وسوسو ته پخپلو زړونو كې لاړې مه وركوئ چې نارينه لره خو خامخا د ښځو ضرورت وي، او له مونږ ځني ښايسته او ښكلې ښځې چېرې پيدا كيږي، نو ځكه دوى مجبور دي چې ځمونږ ګردې ويناوې واورې، په ياد يې ولرئ ! كه الله تعالى اراده وفرمايي؛ نو له تاسې ځني بهترې ښځې هم خپل پيغمبر ته پيدا كولى شي، ولې چې د الله تعالى په دربار كې د هيڅ يوه شي لږوالى نشته.

يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا قُوٓا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ

اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى ! وساتئ تاسې ځانونه خپل او كور كهول خپل (په اطاعت د الله) له اور څخه چې خس اور لګوني بالنږ د هغه سړي او تيږې (ګټې) دي.

تفسير: هر مسلمان ته لازم دي چې د خپلو ملګرو او كور كهول والو په ديندارۍ او مسلمانۍ كې هم توجّه ولري، او د هغوى په سمون او لار ښوونه كې زيار وباسي، په پوهولو، ويرولو، روزلو، مينه، محبت، وهلو او نورو وسيلو سره كوښښ وكړي چې هغې ته د ديانت چارې ور وښيي، كه سره له دې هم هغوى په لاره باندې برابر نشي؛ نو د هغوى كمبختي او د ده بې قصوري پېژندى شي د: ﴿وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ﴾ تفسير د لمړي جزء په (البقرة) سورت كې ځمونږ دغه مبارك تفسير كې ليكلى شوى دى، هلته دې وكوت شي !.

عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ

په دې اور باندې مقررې دي پرښتې کلک زړونې قوّتناکې زبردستې.

تفسير: يعنې دغه پرښتې پر مجرمانو باندې زړه سوی او رحم نه کوي، او نه يې پرې ږدي، او نه د هغه د زبردست نيولو ځنې هيڅوک ځان ژغورلی شي، او نه ترې تښتېدلی شی.

لَّا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ۝٦

نه کوي نافرماني دغه (پرښتې) له الله د هغه څه چې امر يې کړی دی دوی ته، او کوي دوی هغه کار چې پرې مأموريې وي (من جانب الله).

تفسير: يعنې نه د الله تعالى له حکمونو ځنې خلاف تګ کوي، او نه د هغو د احکامو په تعميل کې او په ځای راوړلو کې څه ډيل او سستي کوي، او نه د حکم په امتثال کم قوّته او عاجزانې دي، او په قيامت کې ويلی کيږي دغو منکرانو ته داسې چې:

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ ۭ اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝٧

ای هغو کسانو چې کافران منکران شوي يئ، يعنې ای کافرانو ! عذر مه کوئ تاسې نن ورځ (ځکه چې نه قبليږي)، بېشکه همدا خبره ده چې بدل جزاء به درکړ شي تاسې ته د هغه څه عمل چې وئ تاسې چې کول به مو (په دنيا کې).

تفسير: يعنې د قيامت په ورځ کې کله چې د جهنّم عذاب په مخ کې شته، نو هلته به منکرانو ته ويلی کيږي چې اوس پلمې او بهانې مه رابښيئ، ځکه چې نن به هيڅ يوه پلمه او بهانه نه چليږي، بلکه هر څه چې مو کړي دي؛ د هغه سزا به تاسې ته پوره درکوله کيږي، او ځمونږ له لوري به په تاسې باندې هيڅ يو ظلم او زياتی نه کيږي، دا ځکه ستاسې عملونه دي، چې د عذاب په بڼې تاسې ته په نظر راځي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ۭ

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ! توبه وباسئ تاسې الله ته توبه خالصه رښتيا د زړه له کومې.

تفسير: د زړه له کومې خالصه توبه دا ده چې په زړه کې بيا د ځناه يو خيال هم تېر نشي، که وروسته له توبې څخه بيا هم د ده په زړه کې د همغو چټې او خرابو چارو چرتونه او فکرونو ته اندېښنه وکړځېده، نو وپوهېږئ چې د هغه په توبه کې څه نقص او کسر شته، او د ځناه بنياد يې لا له بېخه نه دی وتلی.

عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ يَوْمَ لَا يُخْزِي اللّٰهُ النَّبِيَّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ۚ

اميد دی چې رب ستاسې وبه رژوي له تاسې ځنې ځناهونه ستاسې، او داخل به کړي تاسې هغو جنّتونو ته چې بهيږي له لاندې د (ونو او مانيو د) هغو (ځلور قسمه) ويالې، (دا ننويستل ستاسې دي جنّت ته) په هغه ورځ کې چې وبه نه شرموي الله نبيّ او هغو کسانو لره چې ايمان يې راوړی دی له هغه سره.

تفسير: يعني د نبي مقام خو ډېر لوړ دی، د هغوی ملګرو ته هم ذلّت نه ورپېښيږي، بلکه په خورا اعزاز اکرام د فضل او شرف په مناسبو او لوړو مقام کې ځای مومي، او د ډېر لوی افتخار او امتياز خاوندان ګرځي.

نُوْرُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ

رڼا د دوی به ځغلي وړاندې د دوی ځخه او په ښي خوا د دوی.

تفسير: د دې بيان د (حديد) په سورت کې پخوا له دې نه تېر شوی دی، ګورئ ځمونږ دغه مقدس تفسير.

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا وَاغْفِرْ لَنَا ۚ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝٨

وبه وايي دوی: ای ربه ځمونږ ! پوره کړه باقي ولره مونږ لره رڼا ځمونږ، او وبښه مونږ لره (ګناهونه ځمونږ)، بېشکه ته پر هر شي باندې ښه قادر يې.

تفسير: يعني ځمونږ رڼا تر آخر پورې قائمه ولره، او مه يې وژنه !، لکه چې د منافقينو په نسبت د (حديد) په سورت کې وليکل شو، چې د هغوی رڼا مړه کيږي، او په توره تياره کې پاتې کيږي.

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۭ

ای نبي (ای ځما پيغمبره) جهاد جنګ کوه له کفّارو سره (بالسّيف) او له منافقانو سره (باللسان) او سختي کوه پر دوی باندې.

تفسير: د محمد صلى الله عليه وسلم خلق او پوست خوی په دې اندازې سره زيات وو، چې الله تعالى نورو ته د تحمّل کولو امر فرمايي او په دوی باندې د سختي کولو امر کوي.

وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۭ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝٩

او ځای (د ورتللو) د دوی جهنّم دوزخ دی، او بد مرجع ځای د ورتللو دی (دا دوزخ).

تفسير: ډومبی يې د مؤمنانو د هستوګنې ځای ور وښود، او بيا يې د هغوی په مقابل کې د کفارو او د منافقانو د هستوګنې ځای او کور راښکاره کړ.

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوا امْرَاَتَ نُوْحٍ وَّامْرَاَتَ لُوْطٍ ۭ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتٰهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَيْـــًٔا وَّقِيْلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدّٰخِلِيْنَ ۝١٠ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ

بيان کړی دی الله يو مثال لپاره د هغو کسانو چې کافران منکران شوي دي، ښځه د نوح او ښځه د لوط، چې وې دا (دواړه ښځې تر نکاح) لاندې د دوو بندګانو له بندګانو صالحانو ځمونږ، بيا خيانت وکړ (دې دواړو ښځو) له دغو دواړو (صالحانو خاوندانو خپلو سره)، نو دفع نه کړ (دغو پيغمبرانو) له دغو (خپلو) ښځو ځخه له عذاب د الله ځخه هيڅ شی، او وويل شو: ننوځئ تاسې دواړه (دوزخ ته) سره له نورو ننوتونکيو (کافرانو). او بيان کړی دی الله يو مثال لپاره د هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی: ښځه د فرعون.

تفسير: يعني نوح او لوط عليهما السلام د الله څنګه نېک بندګان وو، مګر د دواړو په کورونو کې د هغوی ښځې منافقانې وې، چې په ښکاره ډول به يې هغو سره تعلّقات لرل، خو په پټه به له کافرانو سره ملې وې، نو بيا څنګه شول؟ له عامو دوزخيانو سره دوی هم د الله تعالى له لوري په دوزخ کې وغورځول شول، او د پيغمبرانو د زوجيت تعلّقات يوه ذره هم هغوی ته څه فائده ونه رسوله، او نه يې له عذابه وژغورل، پرته له دې څخه د فرعون ښځه بي بي آسيه رضي الله تعالى عنها بنت مزاحم چې يوه پخه ايمانداره او کامله وليه وه، او د هغې مېړه د الله تعالى لوی باغي وو، هغې نېکې ښځې خپل مېړه له عذابه ونه شو ژغورلی، او نه د مېړه د شرارت او بغاوت په جرم هغې ښځې ته کوم اخروي رنځ ور ورسېد.

إِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِي عِندَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ

کله چې وويل دې: ای ربه ځما ! جوړ کړه ماته په نزد خپل يو کور په جنّت کې.

تفسير: يعني خپل قرب دې را عنايت کړه ! او په جنّت کې راته يوه مانۍ ودانه کړه !.

وَنَجِّنِي مِن فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِ وَنَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿١١﴾

او ومې ژغوره (خلاصه) مې کړه له عذاب د فرعون څخه، او له عمل د ده څخه، او ومې ژغوره (خلاصه مې کړه) له قومه ظالمانو څخه.

تفسير: يعني د فرعون له منګولو څخه مې وژغوره !، او د هغه له ظلم ځنې راته نجات وښنه، دوی موسى عليه السلام پاللی وو، او د دوی له مرستيالانو ځنې وو، وايي: کله چې فرعون ته دا حال ورځرګند شو؛ نو دا يې په ځلورو موږو کې وټړله، او راز راز ربړونه او ايذاوې يې ور ورسولې، په همدې حال کې د الله تعالى له لوري هغې ته د هغه د جنّت ځای ور وښوول شو، چې د هغه لامله په هغې باندې هغه ګرد ربړونه او سختياوې ور اسانې شوې، په پای کې فرعون هغه سياستًا ووژله، او دې د شهادت کنډول په سر واړاوه، او د حقيقي مالك الملكوت أجلّ وأعلى شأنُهُ وأعظمَ برهانُهُ مخې ته ورسېده، په صحيح حديث کې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د دې د کاملتوب اعلان فرمايلی، او بي بي مريم سره يې د هغه شتوالی ذکر کړی دی، په زرهاوو رحمتونه دې وي د دوی په پاک روح باندې.

وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرَانَ الَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا

او (مثال بيان کړی دی الله د) مريم لور د عمران هغه چې ساتلی يې وو ځای د شهوت خپل (له نکاح او سفاح څخه).

تفسير: يعني له حلال او له حرام له ګردو څخه يې محفوظه وساتله.

فَنَفَخْنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا

نو ومو پوکل (په ګرېوان د هغې) کې له روح خپل څخه.

تفسير: يعني د پرښتې په وسيله يې يو روح ور وپوکه، جبريل عليه السلام د دې د کميسه په ګرېوان کې پوکلی وو، چې د هغه په نتيجه کې د حمل استقرار وشو، او مسيح عليه السلام پيدا شو.

وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ

او تصديق باور کړی وو هغې په خبرو د رب خپل، او په کتابونو د ده.

تفسير: د رب خبرې هغه وې چې د پرښتو په ژبو سره د (آل عمران) په سورت کې بيان شوي دي، ﴿وَإِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰكِ وَطَهَّرَكِ﴾ الآية ـ او له کتابونو څخې به عام سماويه کتابونه مراد وي، او د تخصيص ضرورت نشته.

وَكَانَتْ مِنَ ٱلْقَٰنِتِينَ ﴿١٢﴾

او وه دا له امر منونکيو فرمان وړونکيو څخه.

تفسير: يعنې د کاملينو نارينه وو په شان په بندګۍ او طاعت کې ټينګه او ثابت قدمه وه، باقي داسې وبوله چې د قانتينو له کورنۍ څخه وه.

تمت سورة التحريم، ولله الحمدُ والمنّة، وبه التوفيق والعصمة.

سُورَةُ المُلْكِ

«د (الملك) سورت مکي دی، (۳۰) آیته دوه رکوع لري، په تلاوت کې (۶۷) او په نزول کې (۷۷) سورت دی، وروسته د (الطّور) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

تَبٰرَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١﴾

ډېر برکت کوي هغه (الله) چې په لاس د ده کې دی ملک سلطنت، او همدغه (الله) پر هر څیز باندې ښه قادر دی.

تفسیر: یعنې لوی برکتناک او خورا ثابت دی په دوام هغه الله تعالی چې ګرد ملک د ده دی، او یواځې په هر شي کې د هغه واک او اختیار دی، او حکم یې پر هر څیز او هر ځای باندې چلیږي.

الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا

هغه (الله) چې پیدا کړی یې دی مرګ او ژوندون لپاره د دې چې وازمویي تاسې چې کوم یو له تاسې ډېر ښه دی د عمل له مخې.

تفسیر: یعنې د مړینې او د ژوندون سلسله هغه الله قائمه کړې ده، مونږ او تاسې ړومبی هیڅ نه وو، هم هغه مرګ او مړینه وګنئ، بیا پیدا شو، وروسته له هغه مړینه او مرګ پر مونږ راځي، بیا مو له هغې مړینې او مرګ څخه ژوندي راپاڅوي، لکه چې د (البقرة) په درېمې رکوع (۲۸) آیت ځمونږ د دغه تفسیر کې راغلي دي: ﴿وَكُنْتُمْ أَمْوَاتًا فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾ د مړینې او د ژوندون دا ګردې سلسلې د دې لپاره دي چې ستاسې د چارو کتنه او ازموینه وکړه شي چې کوم یو خراب کار کوي؟ او کوم یو ښه کوي؟ په ړومبني ژوندون کې ازموینه کیږي او په دویم ژوندون کې د هغه نتیجه فورًا درښوله کیږي، فرض یې کړئ ! که ړومبی ژوندون نه وی؛ نو چا به عمل کاوه، که موت نه راتلی؛ نو خلق به له مبدأ او منتهی ځنې غافل او بې فکره پاتې کېدل، او هیڅ به نه پسې ګرځېدل، که بیا ژوندون نه وی؛ نو د ښو او بدو چارو بدل به چېرې ورکاوه کېده؟.

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ ﴿٢﴾

او همدغه (الله) ښه غالب قوي دی، ډېر مغفرت کوونکی دی.

تفسیر: یعنې داسې زبردست دی چې د هغه له نیولو ځنې هیڅوک ځان نشي بچ کولی، او لوی لوروونکی مغفرت کوونکی او ښوونکی هم دی.

الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا

هغه (الله) چې پیدا کړي یې دي اووه اسمانونه طبقې طبقې لاندې باندې.

تفسیر: په حدیث کې راغلي دي چې: د یوه اسمان په سر باندې بل اسمان، او د هغه د پاسه درییم اسمان او همداسې یو پر بل باندې اووه اسمانونه سره لاندې باندې طبقې دي، چې له یوه اسمانه تر بل اسمان پورې د پنځو سوو کلونو مسافه ده.

مَا تَرٰى فِيْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِنْ تَفٰوُتٍ ؕ

وبه نه وینې ته (ای کتونکیه) په پیدایښت د رحمان کې هیڅ تفاوت خلل عیب فرق.

تفسیر: یعنې قادر ذات پخپل انتظام او کاریګرۍ کې هیڅېرې هیڅ فرق نه دی ایښی، په هر شي کې له انسان ځنې اخیستې تر حیواناتو، نباتاتو، جماداتو، عناصرو، علوي او سفلي اجرامو، او اوو اسمانونو، ستوریو او نورو پورې یو شانې د هغه قدرت او کاریګري ښکاري.

هسې نه دی چې ځینې شیان یې په حکمت او بصیرت سره او ځینې یې همداسې چټې او بېکاره او بې اصوله پیدا کړي وي (العیاذ بالله)، که چېرې چاته هسې کوم شی په نظر ورشي؛ نو ودې پوهیږي چې د هغه په ځای د ده په عقل او نظر کې څه نه څه نقص او قُصور شته.

فَارْجِعِ الْبَصَرَ ۙ هَلْ تَرٰى مِنْ فُطُوْرٍ ۝۳

بیا واړوه (خپلې) سترګې چې آیا وینې ته (په کې) څه چاود څیروالی نقصان.

تفسیر: یعنې ګرد کائنات له ښکته څخه تر پاسه پورې په یوه قانون او مضبوط نظام سره تړلی شوي دي، او یو لړ یې له بل لړ سره داسې نښتی دی چې هیڅېرې څه چاود، فرق، تفاوت، سوری، خلل، نقصان، عیب او څه د تنقید ځای په کې نشته، او نه د هغه په کاریګرۍ کې څه اهمال او اختلال موندل کیږي، هر شی همغسې دی لکه چې ښایي، که دا آیتونه د اسمان په نسبت وي؛ نو مطلب به یې داسې وي چې: ای اورېدونکیه (مخاطبه) ! پاس اسمان ته وګوره چې په کوم ځای کې یې څه لاندې باندې درز چاود څیروالی او نقصان موندل کیږي؟ بلکه یو صاف، هوار، متصل، مربوط او منظم شی په نظر راځي، چې سره د تېرېدلو د دومره زمانو او د ازمنوو د تطاولو تر نن پورې هیڅ فرق او تفاوت نه په کې لیدل کیږي.

ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ إِلَيْكَ الْبَصَرُ خَاسِئًا وَّهُوَ حَسِيْرٌ ۝۴

بیا وګرځوه سترګې خپلې (اسمان ته ای کتونکیه !) دوه دوه ځلې، بېرته به راوګرځي پاتې سترګې (ستا) بېرته ګرځېدونکې او دغه (سترګې به وي) ذلیلې سترې ستومانه (له نه لیدلو د خلل نه).

تفسیر: یعنې ممکن دي چې په یوه نیمه کتنه کې سترګې تېروځي، نو ځکه په پوره کوښښ سره څو څو ځلې وګوره !، چې آیا په کوم ځای کې کوم چاود، کنډو، څیروالی، او رخنه شته؟ ښه غور، فکر او دقّت وکړه، او بیا کتنه پرې وکړه، چې د قادر ذات په انتظام کې خو چېرې د ګوتې ایښوولو ځای شته؟ په یاد یې ولرئ ! چې ستاسې سترګې له ډېرو کتلو ځنې سترې ستومانیږي، او ذلیلې، درمانده خړې پرې به بېرته راګرځي، خو د الله تعالی په کاریګرۍ او مصنوعاتو او انتظاماتو کې به هیڅ عیب او قصور نه شي ایستلی.

وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ

او خامخا په تحقیق ښایسته کړی دی مونږ دا اسمان ډېر نژدې (ځمکې ته) په ډیوو ستوریو سره.

تفسیر: یعنې د اسمان په لوري وګورئ ! چې د شپې له مخې د ستوریو اشعه، پلوشې، ځلېدل او سینګار په څه رونق او شان سره بریښي، دا د قدرت هسې رنګانې او ډیوې دي چې د نړۍ ډېرې ګټې په هغو پورې تړلې دي.

وَجَعَلْنٰهَا رُجُومًا لِّلشَّيٰطِينِ

او ګرځولي دي مونږ دغه (ډیوې ستوري) ویشتونکي شیطانانو لره.

تفسیر: د (رجم الشیاطین) مضمون د (الحجر) په سورت او نورو ځایونو کې په تفصیل سره تېر شوی دی.

وَأَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ السَّعِيرِ ۝٥

او تیار کړی دی مونږ دوی لره عذاب ډېر سوځوونکی (د دوزخ).

تفسیر: یعنې په دنیا کې په شهابو سره ویشتل کیږي، او په آخرت کې دوی لره د دوزخ اور تیار دی.

وَلِلَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ۝٦

او شته لپاره د هغو کسانو چې کافران شوي دي په رب خپل باندې عذاب د جهنّم دوزخ، او بد مرجع ځای د ورتللو دی (دا دوزخ).

تفسیر: یعنې د کافرانو د هستوګنې ځای له شیاطینو سره په همغه دوزخ کې دی.

إِذَا أُلْقُوا فِيهَا سَمِعُوا لَهَا شَهِيقًا وَهِيَ تَفُورُ ۝٧ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ

کله چې وغورځولی شي (کافران) په دغه (اور د دوزخ) کې وابه وري دوی دغه (دوزخ لره) اواز لوی بد، او هغه به خوټیږي. نژدې به وي (دا دوزخ) چې ټوټې ټوټې شي له جهته د قهره (غضبه پر کفّارو باندې).

تفسیر: یعنې په هغه وخت کې به د دوزخ غږ ډېر بد او ویروونکی وي، او په بې انتها خوټېدلو او اشتعال سره به هسې رابښکاري لکه چې له ډېرې غوصې او قهر دې پورې راوړی چې اوس به سمدلاسه ټوټې ټوټې الوځي (أعاذنا الله منها بلطفه وکرمه).

كُلَّمَا أُلْقِيَ فِيهَا فَوْجٌ سَأَلَهُمْ خَزَنَتُهَا أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَذِيرٌ ۝٨

هر کله چې وغورځوله شي په کې یوه ډله (د منکرانو)؛ پوښتنه به وکړي (توبیخًا) له هغوی نه خازنانې د دوزخ (داسې چې) آیا نه وو راغلی تاسې ته (ای منکرانو) ویروونکی (پیغمبر په دنیا کې).

تفسیر: یعنې دا پوښتنې به د زیاتو ذلیلولو، محجوبولو او خړولو لپاره وي، چې تاسې په دې مصیبت ککړ شوي یئ، آیا پخوا له دې څخه چا نه وی خبر کړي؟ او نه یې متنبه کړي او ویرولي وئ؟ چې په دې لاره باندې مه ځئ !، که نه سم به په دوزخ کې لوېږئ، چې هلته به داسې سخت سخت عذابونه وي.

قَالُوا بَلَىٰ قَدْ جَاءَنَا نَذِيرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَالٍ كَبِيرٍ ﴿٩﴾

نو وبه وايي (منكران داسې چې) هو ! په تحقيق راغلى وو مونږ ته ويرووونكى (پيغمبر)، نو دروغجن وباله مونږ دى، او وويل مونږ (هغوى ته چې) نه دى رالېږلى الله هيڅ شى، نه يئ تاسې مګر په ګمراهۍ لويه كې.

تفسير: يعنې خجل او نادم شوي په ډېر حسرت او ندامت سره به جواب وركوي چې: بېشكه ويرووونكى پيغمبر مونږ ته راغلى وو، مګر مونږ د هغوى خبرې ونه منلې، او دوى به مو تل دروغجن ګڼل، او ورته ويل به مو چې: تاسې غلطې خبرې كوئ، نه د الله تعالى له لورې رالېږلى شوي يئ، او نه پر تاسې باندې وحي راځي، بلكه تاسې د عقل او پوهې له لارې ځخه لرې تللي يئ، او په سخته ګمراهۍ كې لوېدلي يئ.

وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴿١٠﴾

او وبه وايي (منكران) كه چېرې وى مونږ چې اورېدلې مو (خبرې د انبياوو په دنيا كې په سماع القبول سره)، يا مو عقل لرلى (په خير او شر خپل)؛ نو نه به وو مونږ (نن) په اهل ملګرو د دوزخ كې.

تفسير: يعنې مونږ په دې نه پوهيدو چې دا ويرووونكي به رښتين راووځي، كه مونږ په هغه وخت كې د كوم پند وركوونكي خبرې اورېدلې وى، او له پوهې او عقل ځخه مو كار اخيستى وى، او د معاملې په حقيقت باندې پوهيدلي وى؛ نو نن به ولې د دوزخيانو په ډله كې ګډېدو، او تاسې ته به د دې پيغور او طعن ورکولو موقع څرنګه په لاس درتله؟.

فَاعْتَرَفُوا بِذَنبِهِمْ فَسُحْقًا لِّأَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴿١١﴾

نو اقرار يې وكړ (قائل شول) دوى په ګناه خپلې باندې، نو لرې والى دى خاوندانو د دوزخ لره، (د الله تعالى له رحمته دي لرى وګرځول شي).

تفسير: يعنې پخپله دوى اقرار وكړ چې بېشكه مونږ مجرمان يو، هسې بې ګناه مونږ په دوزخ كې نه يو لويدلي، خو د دې ناوخته اقرار او اعتراف ځنې هغوى ته هيڅ ګټه او فائده نه وررسيږي، او هسې ارشاد به كيږي: ﴿فَسُحْقًا لِّأَصْحَابِ السَّعِيرِ﴾ «اوس دې لرې او ورک شي او دفعه دې شي دوزخيان»، دوى لره د رحمت په شاوخوا كې هيڅ د هستوګنې ځاى نه دى پاتې، بلكه دوى ته لرېوالى دى له مهربانۍ د الله ځخه.

إِنَّ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِالْغَيْبِ

بېشكه هغه كسان چې ويريږي له رب خپل په غيب سره.

تفسير: يعنې الله تعالى يې نه دى ليدلى، مګر پر هغه او د هغه په صفاتو باندې پوره باور لري، او د هغه د عظمت او د جلال له تصوّره ريږدي، او د هغه د عذاب له خياله لرځيږي، يا د (بالغيب) مطلب دا دى چې د خلقو له مجمع ځنې جلا په عزلت اوخلوت كې هم په پټه سره خپل پروردګار يادوي، او د هغه له وېرې ځخه لرځېدونكي ويرېدونكي وي.

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿۱۲﴾ وَاَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ اَوِ اجْهَرُوْا بِهٖ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۳﴾

شته دوی ته مغفرت (د ګناهونو) او اجر ثواب ډېر لوی (چې جنّت دی). او که پټوئ تاسې خبره خپله، او که ښکاروئ (هغه خبره)، بېشکه هغه (الله) علیم ښه دانا دی په پټو خبرو د سینو باندې هم.

تفسیر: یعنې اګر که تاسې هغه نه وینئ، مګر هغه تاسې وینې، او ستاسې په هره پټه او ښکاره خبره که په خلوت کې وي یا په جلوت کې؛ پوهیږي، بلکه پر هغو ټولو شیانو باندې هم خبردار دی چې ستاسې په زړونو کې ګرځي، لنډه یې دا چې سره له دې چې الله تعالی ستاسې له سترګو ځنې پټ او غائب دی، خو بیا هم ستاسې په ټولو پټو او ښکاره وو باندې پوه او خبردار دی، او هیڅ شی ترې غائب او پټ نه دي.

اَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ ؕ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ﴿۱۴﴾

آیا نه پوهیږي (په پټو اسرارو د زړونو) هغه (الله) چې پیدا کړي یې دي (زړونه؟ بلکه هر شی ورمعلوم دی)، او همغه (الله) دی علیم دانا (په پټو اسرارو) ښه خبردار دی (په ظواهرو د موجوداتو هم).

تفسیر: یعنې ستاسې او ستاسې د افعالو او اقوالو د هر څیز خالق او مختار هم همغه الله تعالی دی، کله چې خالق او مختار کوم شی پیدا کوي، نو خامخا په هغه باندې پوه او خبردار او پوره عالم هم وي، که نه پیدا کول ناممکن دي، او داسې امکان نه لري چې یو شی یې جوړ کړی وي خو پرې نه پوهیږي.

هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ ذَلُوْلًا فَامْشُوْا فِيْ مَنَاكِبِهَا وَكُلُوْا مِنْ رِّزْقِهٖ ؕ وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ ﴿۱۵﴾

دغه (الله) همغه ذات دی چې ګرځولې یې ده تاسې ته ځمکه پسته تابعداره، نو ځئ ګرځئ تاسې په اوږو اطرافو لارو د دې ځمکې کې، او خورئ تاسې له (حلال) رزق د دغه (الله)، او خاص دغه (الله) ته بیا ژوندي راپورته کېدل ستاسو دي (پس له مرګه).

تفسیر: یعنې ځمکه یې ستاسې په مقابل کې داسې نرمه، پسته، ذلیله، مسخّره او منقاده ګرځولې ده، چې هر څه وغواړئ؛ په هغې کې تصرّف کولی شئ، او په هغې باندې او د هغې پر غرونو باندې ځئ او راځئ، او ترې خپل خوراک، څښاک او نور ضروریات ګټئ، مګر دومره په یاد ولرئ ! هغه څوک چې خواړه او نور شیان درکوي، د همغه په لوري پس له مرګه او بیا ژوندي پاځېدلو ستاسې بیا ورتګ دی.

ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَآءِ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمُ الْاَرْضَ فَاِذَا هِيَ تَمُوْرُ ﴿۱۶﴾

آیا مأمون ډاډه شوي یئ تاسې له هغه (الله) ځنې چې په اسمانونو کې دی چې راپورته به کړي په تاسې باندې ځمکه (او ډوب به مو کړي په کې)؟ بیا به (ناڅاپه) هلته دا (ځمکه) ولرځیږي وخوځیږي.

تفسیر: ډومبی یې انعامات راښوولې وو، اوس د قهر انتقام او د پوښتنې شان راښیي او ویرول یې مقصود دي، یعنې بېشکه ځمکه تاسې لره تابعه او مسخّره شوې ده، مګر په یاد یې ولرئ چې په هغې باندې حکومت د همغه ذات دی، چې د دې اسمان خاوند دی، که وغواړي تاسې په ځمکه کې داسې خښوي چې له چارچاپېره به ځمکه درباندې

پورته کوي، او په هغه وخت کې به ځمکه ولړځيږي، او تاسې د هغې په همدا خوځېدلو سره په کې ډوبيږی، نو ځکه سړي لره نه ښايي چې د هغه خالق مختار له دربار ځنې بې وېرې او بې پروا شي، او په شرارت باندې لاس پورې کړي، او د هغه په ډيل او معطلۍ باندې مغرور شي.

أَمْ أَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاءِ أَن يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ۖ

آيا مأمون ډاډه شوي يئ تاسې له هغه (الله) ځنې چې په اسمانونو کې دی له دې نه چې وبه ليږي په تاسې باندې کانې ويشتونکی باد.

تفسير: يعنې په ډېره خوښۍ سره په ځمکه باندې ځئ راځئ، او خواړه او نور ضروريات ځان ته ګټئ، خو سره له هغه خپل الله تعالی مه هېروئ !، که نه هغه الله تعالی په دې باندې قادر دی چې پر تاسې باندې يوه سخته سيلۍ درولېږي، يا د کانړو باران درباندې اووروي، نو بيا به تاسې څه وکړلی شئ، او ستاسې به دا ګرد ځغلېدل، لاندې باندې کېدل په ځای پاتې کيږي.

فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ ﴿١٧﴾

نو ژر ده چې پوه به شئ تاسې چې څه رنګه وو ويرول ځما.

تفسير: يعنې له هغه عذابه چې تاسې وېرول کېږئ؛ هغه څومره تباه کوونکی او ويروونکی وو؟.

وَلَقَدْ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿١٨﴾

او خامخا په تحقيق دروغجن ګڼلي وو (کفّارو خپل انبياء) چې پخوا له دغو (کفّارو د مکې) څخه وو، نو څه رنګه وو انکار د عذاب ځما !؟.

تفسير: يعنې له عاد او ثمود او له نورو سره کومه معامله چې شوې ده، له هغې ځنې عبرت واخلئ !، او ګورئ چې د هغوی په حرکاتو باندې هم مونږ انکار کړی وو، نو هغه ځمونږ انکار څه رنګه د عذاب په صورت ورښکاره شو؟.

أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَافَّاتٍ وَيَقْبِضْنَ ۚ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحْمَٰنُ ۚ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ بَصِيرٌ ﴿١٩﴾

آيا نه ګوري دوی مرغانو ته (په هوا کې) له پاسه د سرونو د دوی؟ پرانيځي وزرونه او ټولوي (وزرونه خپل)، نه نيسي نه ساتي دوی په هوا کې له پرېوتو مګر خو رحمان، بېشکه هغه (الله) په هر څيز باندې بينا ښه ليدونکی دی.

تفسير: ږومبی د اسمان او د ځمکې ذکر شوی وو، دلته د هغو د منځ شيانو ذکر دی، يعنې د الله تعالی قدرت ته وګورئ چې مرغان د ځمکې او د اسمان په منځ کې کله خپل وزرونه غوړوي او پرانيځي او خواره يې کړي، څرنګه ورسره الوځي؟ او کله يې ټولوي، او سره له دې چې د ثقيل جسم او د درنې بڼې او بشرې خاوندان او مائل الی المرکز دي، خو بيا هم هغوی لاندې نه رالويږي، او نه د ځمکې جاذبه قوّه هغه وړو کی مرغه د خپل ځان په لوري راښکلی شي، وښيه پرته (علاوه) له الله تعالی د چا قدرت هسې دی؟ چې هغه يې په فضاء او تشتيا کې هسې ساتلی دی؟ بېشکه «رحمان» پخپل رحمت او حکمت سره د هغوی بڼې هسې جوړې کړي دي، او په هغوی کې يې داسې يو قُوّت اينبی دی، چې د هغه په وسيله هغوی بې تکلّفه په هوا کې څو څو ګړۍ الوتلی او ګرځېدلی شي، همغه د هر يوه څيز په استعداد باندې ښه پوهيږي، او ګرد مخلوق تر خپل نظر لاندې ساتي.

اَمَّنْ هٰذَا الَّذِیْ هُوَ جُنْدٌ لَّكُمْ یَنْصُرُكُمْ مِّنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ ؕ اِنِ الْكٰفِرُوْنَ اِلَّا فِیْ غُرُوْرٍ ﴿۲۰﴾

آیا څوک دی هغه (ذات) چې هغه لښکر ستاسې شي کومک مرستې وکړي له تاسې سره بې له «رحمان»؟ نه دي کافران مګر خو په غرور غولېدلو کې دي.

تفسیر: منکران سخت غولیدلي دي، که هغوی داسې ګڼي چې د هغوی معبودان او د فرضي بتانو لښکرې دوی د الله تعالی لـه عذابه او لـه راتلونکي آفت څنې ژغورلی شي؛ نه وپوهېږئ ! چې له رحمانه جلا شوي هیڅوک به هغوی ته مدد او مرستې ونه رسوي.

اَمَّنْ هٰذَا الَّذِیْ یَرْزُقُكُمْ اِنْ اَمْسَكَ رِزْقَهٗ ؕ

آیا څوک دی هغه (ذات) چې رزق درکړي تاسې ته که چېرې بند کړي (الله) درڅخه رزق خپل؟ (هیڅوک مو بې له الله رازق نشته).

تفسیر: یعنې که الله تعالی د خوړو سامان او اسباب در بند کړي، نو څوک به طاقت ولري چې په تاسې باندې د خوړو ورونه پرانیځي؟.

بَلْ لَّجُّوْا فِیْ عُتُوٍّ وَّ نُفُوْرٍ ﴿۲۱﴾

بلکه ننوتلي او محکم شوي دي دوی په سرکشی عناد او تېښته نفرت کې (له حقه).

تفسیر: یعنې دا خلق پخپلو زړونو کې پوهېدل چې له الله تعالی څنې جلا پاتې شوي نه د چا د نقصان مخه نیولی شي، او نه چاته ګټه رسولی شي، مګر یواځې د شرارت او سرکشی لامله کله چې د توحید او اسلام په لوري راوبللی شي؛ تور خوري او یاغي کیږي.

اَفَمَنْ یَّمْشِیْ مُكِبًّا عَلٰی وَجْهِهٖۤ اَهْدٰۤی اَمَّنْ یَّمْشِیْ سَوِیًّا عَلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ﴿۲۲﴾

آیا پس هغه څوک چې ځي نسکور په مخ خپل باندې نه لار موندونکی وي، یا هغه څوک چې ځي برابر سم په لارې سمې باندې؟.

تفسیر: یعنې د ظاهري کامیابی لارې طي کوي، همغه تر اصلي مقصد پورې رسېدی شي، چې په سمه لاره باندې د سړیو په شان برابر لاړ شي، هغه څوک چې په کږه لاره لکه ړانده نسکور ځي؛ نو هغه د مقصود تر منزل پورې نشي رسېدی، دا د یوه موحّد او د یوه مشرک مثال دی، په قیامت کې د دوی دواړو په ورتګ کې همداسې فرق لیدل کیږي.

قُلْ هُوَ الَّذِیْۤ اَنْشَاَكُمْ وَ جَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَ الْاَبْصَارَ وَ الْاَفْـِٕدَةَ ؕ قَلِیْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿۲۳﴾

ووایه (ای محمده !) دغه (الله) هغه ذات دی چې پیدا کړي یې یئ تاسې، او درکړي ګرځولي یې دي تاسې ته غوږونه او سترګې او زړونه، ډېر لږ شکر وباسئ تاسې (په دغو نعماوو د الله).

تفسیر: یعنې الله تعالی د اورېدلو لپاره غوږونه، او د لیدلو لپاره سترګې، او د پوهېدلو لپاره زړونه راکړي دي، تر څو د هغه حقونه ومنو، او دا قوّتونه په نه لاره کې مصروف کړو، او د هغه طاعت او فرمانبرداري وکړو، مګر داسې شکر ګزاره سړي ډېر لږ دي، کافرانو ته وګورئ چې هغوی د دې نعمتونو حق څرنګه په ځای راوړي؟ او د الله تعالی دا ورکړی شوي قوّتونه د هغه الله تعالی په مقابل کې څنګه استعمالوي؟.

قُلْ هُوَ الَّذِیْ ذَرَاَكُمْ فِی الْاَرْضِ وَاِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۲۴﴾

ووایه (ای محمده !) دغه (الله) هغه ذات دی چې پیدا (خواره) یې کړئ تاسې په ځمکه کې، او خاص ده ته به راټول کړل شئ تاسې.

تفسیر: یعنې ابتداء هم له هغه څخه شوې ده، او انتهاء به هم پر هغه وي، له هر ځایه چې راغلي یئ؛ هلته به ببرته ځئ، بایده وو چې له هغه ځنې یوه شېبه هم نه غافلېدئ، او هر وخت د هغه په فکر او یاد کې وئ، او زیار وکړئ تر څو د هغه مالک په مخ کې تش لاس ونه درېږئ، مګر داسې بندګان ډېر لږ دي.

وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰی هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۲۵﴾

او وایي دغه (کفّار مؤمنانو ته په تمسخُر سره) کله به وي دا وعده (د حشر) که چېرې یئ تاسې صادقان رښتیني (په دغه ویلو کې؟، نو مونږ پوه کړه په زمانه د راتلو د قیامت).

تفسیر: یعنې مونږ او تاسې به کله ټولیږو؟ او د الله تعالی په حضور ټول کله سره ځو؟ او قیامت به کله وي؟ او ژر یې راښکاره کړه !.

قُلْ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ وَاِنَّمَاۤ اَنَا نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ ﴿۲۶﴾

ووایه (ای محمده ! دغو منکرانو ته) بېشکه د دې خبرې (چې قیامت کله قائمیږي؟) علم په نزد د الله دی، او بېشکه (خبره دا ده چې) زه ویروونکی یم ښکاره.

تفسیر: یعنې د قیامت وخت او مهال زه ټاکلی نه شم، د هغه علم له الله تعالی سره دی، هر هغه شی چې په یقین سره راتلونکی دی؛ له هغې ځنې پوهول او د هغه له ویروونکي مستقبل ځنې ډارول ځما فرضي کار دی، چې زه یې اداء کوم.

فَلَمَّا رَاَوْهُ زُلْفَةً سِیْٓـَٔتْ وُجُوْهُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا وَقِیْلَ هٰذَا الَّذِیْ كُنْتُمْ بِهٖ تَدَّعُوْنَ ﴿۲۷﴾

پس کله چې ووینې دوی هغه (عذاب قیامت) ډېر نژدې؛ نو بد شکله تور به شي مخونه د هغو (کسانو) چې کافران شوي دي، او وبه ویل شي (دوی ته): دا همغه (عذاب) دی چې وئ به تاسو چې دغه مو (ژر) غوښتلو (په دنیا کې).

تفسیر: یعنې اوس خو د هغه د راتګ په نسبت شور لګوي، خو کله چې هغه ټاکلی وخت ورنژدې شي؛ د ډېرو لویو باغیانو خولې به چینګې پاتې کېږي، او په ویجاړو مخونو بدو اشکالو او وچو شونډو به هک پک اریان په رڼو سترګو ورته ګوري، او هیڅ به یې له لاسه نه وي پوره.

قُلْ اَرَءَیْتُمْ اِنْ اَهْلَكَنِیَ اللّٰهُ وَمَنْ مَّعِیَ اَوْ رَحِمَنَا ۙ فَمَنْ یُّجِیْرُ الْكٰفِرِیْنَ مِنْ عَذَابٍ اَلِیْمٍ ﴿۲۸﴾

ووایه (ای محمده ! دغو منکرانو ته) آیا وینئ خبر راکړئ تاسې ماته ! که چېرې هلاک مې کړي الله او هغه څوک چې ځما سره دي (لکه چې تاسې د دې قصد کړی دی)، یا رحم وکړي (الله) پر مونږ باندې په طول د عمر؛ پس څوک دی چې وبه ژغوري خلاص به کړي کافران له عذابه دردناکه څخه.

تفسیر: کفّارو به تمنّا کوله چې که محمد صلی الله علیه وسلم ژر مړ شي؛ نو دا قصه به پای ته ورسیږي (العیاذ بالله)، د هغه ځواب داسې ورکوي چې: فرض یې کړئ ! که سم د ستاسې له اټکله محمد صلی الله علیه وسلم او د ده ملګري رضي الله تعالی عنهم مړه شي، یا سم ځمونږ د مسلمانانو له عقیدې سره محمد صلی الله علیه وسلم او د ده ملګري د الله تعالی په رحمت بریالیان او مراد موندونکي شي؛ نو په دې دواړو صورتونو کې هر یو چې وي، له هغې ځنې تاسې ته هیڅ یوه ګټه او فائده نه رسیږي، ځمونږ انجام په دنیا هر څه چې وي خو آخرت مو ډېر ښه دی، ځکه چې مونږ په دې لاړې کې جداوجهد کوو، لیکن تاسې د خپلو ځانونو فکر وکړئ ! چې په دې کفر او سرکشۍ سره تاسې به له هغه درد رسوونکي عذاب څخه چې راتلونکی دی څوک وژغوري؟ ځمونږ فکر او اندېښنه پرېږدئ، پخپل فکر کې ولوېږئ !، ولې چې کافران په هیڅ ډول د الله تعالی له عذابه ژغورېدونکي نه دي.

قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ اٰمَنَّا بِهٖ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ۚ

ووایه (ای محمده دغو منکرانو ته ! الله) رحمان دی چې ایمان مو راوړی دی پر هغه (رحمان) باندې، او پر همغه (رحمان) باندې توکل کړی دی مونږ (په ټولو کارونو خپلو کې).

تفسیر: یعنې څنګه چې ځمونږ ایمان په هغه الله تعالی باندې دی؛ نو د هغه په مرسته ځمونږ ژغورنه یقیني ده، او کله چې مونږ په صحیحې معنی سره پر هغه الله تعالی باندې اسره او توکل لرو؛ په ګردو مقاصدو کې مو بری او کامیابي یقیني ده.

فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝۲۹

نو ژر به پوه شئ تاسې (په وخت د لیدلو د عذاب کې) چې څوک دی هغه (چې لوېدلی دی) په ګمراهي ښکاره کې (له مؤمنانو او کافرانو).

تفسیر: یعنې مونږ مؤمنان داسې یو چې ستاسې ګمان دی، یا تاسې منکران همغسې یئ چې ځمونږ عقیده ده.

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَّاْتِيْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِيْنٍ ۝۳۰

ووایه (ای محمده دغو منکرانو ته) آیا وینئ خبر راکړئ تاسې ماته: که چېرې ګهیځ وګرځي اوبه ستاسې ښکته (په ځمکه کې ننوتلې ورکې)؛ نو څوک دی هغه چې راولي تاسې ته اوبه روانې شفافې پاکې صافې؟.

تفسیر: یعنې د مړینې او ژوندون ګرد اسباب د هغه الله تعالی په لاس کې دي، یوه اوبه د مثال په ډول واخلئ، چې په هغه باندې هر شی ژوندی دی، فرض یې کړئ که د چینو، ویالو، کوهي او نورو اوبه وچې شي، او د ځمکې لاندنې عُمق او تل ته ورښکته شي، لکه چې زیاتره د تودوخې په موسم کې پیښیږي؛ نو د چا له لاسه به پوره وي چې لکه مرغلرې غوندې جاري، پاکې، رڼې او صافې اوبه په زیاته اندازه سره راپیدا کړي، چې ستاسې ژوندون او بقا لره کافي وي، نو ځکه یو متوکل مؤمن لره ښایي چې په هغه خالق الکل مالک علی الاطلاق باندې هیله (امید) او اسره ولري.

تمّت سورة الملک بفضل الله وکرمه ومنّه.

سُورَةُ القَلَمِ

«د (القلم) سورت مکّي دی، پرته (علاوه) له (۱۷) آیته تر (۳۳) آیت پورې، او له (۴۸) آیت څخه تر (۵۰) آیت پورې چې مدني دي، (۵۲) آیتونه او دوه رکوع لري، په تلاوت کې (۶۸) او په نزول کې دویم سورت دی، وروسته د «العلق» له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ ۝١ مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ ۝٢

قسم دی په قلم او په هغه څه چې دوی یې لیکي. چې نه یې ته (ای محمده !) په نعمت (فضل انعام) د رب خپل سره لېونی.

تفسیر: د مکې مشرکانو پیغمبر ته (العیاذ بالله) لېونی ویل، ځینو به ویل چې: په دوی باندې د شیطان اثر لوېدلی دی، چې داسې یو ناڅاپه له ګرد کور کهول او تېر څخه جلا شوې، داسې غټې خبرې کوې چې هیڅوک یې نشي منلی، حق تعالی د دې باطل خیال تردید او د خپل پیغمبر تسلي وفرمایله، یعنې پر هغه چا باندې چې د الله تعالی دومره لوی فضل او انعام شوی دی، چې د هغه مشاهده هر لیدونکی په ښه شان سره کولی شي، مثلاً اعلی درجې فصاحت، د حکمت او د پوهنې خبرو یې د مخالفینو او موافقینو په زړونو کې ډېر قوي تأثیر اچولی دی، او سره د داسې لوړې رشې (خوی) او ښو اخلاقو دوی ته لېونی ویل پخپله د ویونکي لېونتوب نه دی؟.

وَاِنَّ لَكَ لَاَجْرًا غَيْرَ مَمْنُوْنٍ ۝٣

او بېشکه چې دی خاص تا لره خامخا اجر بدل ثواب بې انتهاء.

تفسیر: یعنې تاسې مه خپه کېږئ، د دوی له دې لیونې بللو څخه ستاسې اجر او ثواب زیاتیږي، او ستاسې غیر محدود هدایت انساني بنې نوعو ته رسېدونکی دی، او د هغو د بې انتهاء ثواب تاسې ته رسېدونکی دی، آیا د لېونیانو او پاګلانو مستقبل به هسې رونې او شاندار او پایدار وي؟ لکه چې ستاسې دی.

وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ ۝٤

او بېشکه چې یې ته (ای محمده) هرومرو په خلق خویونو (دین) ډېر لوی باندې.

تفسیر: یعنې په هغو اعلی اخلاقو او ملکاتو سره چې د الله تعالی له جانبه تاسې ستایلي شوي یئ، کله په لېونیانو کې د هسې ښو خویونو تصوّر کاوه شي؟ د یوه لېونې په خبرو اترو، کار روزګار کې هیڅکله د نظم او ترتیب اثر نه لیدل کیږي، او نه خبرې یې پر چارو باندې منطبقې وي، او حال دا دی چې ستاسې په مبارکه ژبه باندې پاک قرآن چلیږي، او ستا ښه اعمال افعال او اخلاق د هغه بې غږه تفسیر دی.

فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُوْنَ ۝٥ بِاَيِّىكُمُ الْمَفْتُوْنُ ۝٦

پس ژر به ووینې ته (ای محمده !) او وبه وینې دغه (منکران هم). چې په کوم یوه له تاسو څخه لېونتوب دی.

تفسیر: یعنې په زړه کې پخوا له دې نه ټول ښه پوهېدل، لیکن عنقریب دواړو ته به په کتنه سره هم ورښکاره شي، چې د دوی په منځ کې کوم هوښیار، عاقبت اندیښ او په وروستنۍ اندیښنه کې وو؟ او کوم سړی ناپوه او بې سده وو؟ چې د هغه لامله یې لکه لېونیان چتې چتې خبرې کولې.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ ۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿٧﴾

بېشکه رب ستا چې دی همغه ته ډېر ښه معلوم دی هغه څوک چې ګمراه شوی دی له لارې د ده څخه، او همغه (الله) ته ښه معلوم دي لار موندونکي (چې مؤمنان دي).

تفسیر: یعنې پوره علم خو له الله تعالی سره دی، چې کوم یو په کومه لاره راتلونکی دی؟ او کوم یو له لارې ځنې چپ درومي؟ لیکن نتائج ګردو ته ښکاره دي، او ټول به سره پوهېږي چې څوک بریالي دي، او څوک د شیطان په لمسون پاتې او نامراد شوي دي.

فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِينَ ﴿٨﴾ وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ ﴿٩﴾

نو ته مه منه (خبره) د دروغجن ګڼونکو. خوښوي دوی چې که ته نرمي کوې (له دوی سره) نو دوی به هم نرمي کوي (له تا سره).

تفسیر: یعنې په لار راتلونکي او بې لارې ګرد د الله تعالی په محیط علم کې ټاکلی شوي دي، نو ځکه د دعوت او د تبلیغ په معامله کې د مخ اړولو او د رعایت دومره ضرورت نشته، څوک چې د لار موندلو وړ (قابل) وي؛ هغه هرومرو لار مومي، او هغه چې ازلي محروم وي؛ هغه په هیڅ لحاظ او مروت سره منونکي نه وي، د مکې کافرانو به ځمونږ پیغمبر ته ویل چې: تاسې د بت پرستۍ په نسبت خپله دا سخته رویه ترکه کړئ !، او ځمونږ د معبودانو بیخي تردید مه کوئ، تر څو مونږ هم ستا د الله تعظیم وکړو، او ستاسې د طور، طریق، مسلک، مشرب او له دین سره متعرض نه شو، نو ځکه حق تعالی تنبیه ورته وفرمایله چې تاسې د دې دروغجنانو خبرو ته غوږ مه ږدئ !، د دوی مقصد دا دی چې تاسې د کفر په نسبت پاسته اوسئ !، ایمان راوړل او صداقت منل د هغوی مقصد نه دی، او ستاسې د بعثت اصلي مقصد په دې ډول سره په لاس نه راځي، تاسې د هر لوري ځنې سترګې واړوئ، او خپله وظیفه او فرض اداء کړئ، تاسې د دې خبرې ذمه وار او اجاره دار نه یئ، چې څوک یې منې؟ که یې نه منې.

وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ ﴿١٠﴾

او ته خبره مه منه د هر ډېر قسم خوړونکي سپک.

تفسیر: یعنې د چا په زړه کې چې د الله تعالی د نامه عظمت نه وي؛ نو د دروغو قسم خوړل هغه ته یوه خوشې خبره ښکاري، کله چې خلق د هغه په خبرو باور نه کوي، نو ځکه د هغو د یقین راوړلو لپاره څو څو ځلې قسمونه خوري، او ځان په دې وسیلې سره ذلیل او بې قدره کوي.

هَمَّازٍ مَّشَّاءٍ بِنَمِيمٍ ﴿١١﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ﴿١٢﴾ عُتُلٍّ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ﴿١٣﴾

عیب ویونکی تلونکی په چغلۍ سره. منع کوونکی د خیره له حده تېرېدونکی (په ظلم کې) ډېر ګنهګار. بد خوی سخت ویونکی وروسته له دې ټولو عیبو حرام زاده.

تفسیر: یعنې سره د دې خصلتونو بدنام او بد انجام او د خاص او عام رسوا هم وي، شاه صاحب (رحمه الله) لیکي چې: «دا ګرد د کافرانو وصف دی، سړی دې دننه خپل ځان ته ګوري، که چېرې هسې کوم خصلت په کې وي؛ هغه دې پرېږدي !».

تنبیه: د «زَنیم» معنی د ځینو اسلافو په نزد ولد الزنا او حرامزاده دی، د هغه کافر په نسبت چې دا آیت نازل شوی دی، هغه هم داسې وو، چې «ولید بن مغیره» نومیده، او د مکې معظمې یو لوی مشر سړی او د اسلام سخت دښمن وو.

اَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَّ بَنِيْنَ ﴿۱۴﴾

په سبب د دې چې دی وو خاوند د مال او د ځامنو.

تفسیر: یعنې که یو سړی په دنیا کې طالعمن او خوش قسمت وي، لکه چې مال دولت ځامن او شته ولري؛ نو یواځې په دې سره د دې وړ نه دی چې د هغه هره خبره ومنله شي، اصلي شی په انسان کې شرافت، نجابت او ښه اخلاق دي، څوک چې شرافت او ښه اخلاق نه لري؛ ښو مسلمانانو لره نه ښایي چې د هغه خبرې ته غوږ وباسي، یا یې په غولوونکیو چارو باندې تېروځي.

اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۵﴾

کله چې ولوستل شي په ده باندې آیتونه (د قرآن) ځمونږ؛ نو وایي دا قصې نقلونه دي د پخوانیو (خلقو).

تفسیر: یعنې د الله أکرم شأنُه وأعظم برهانُهُ خبرې په داسې ویناوو سره دروغ ګڼي.

سَنَسِمُهٗ عَلَى الْخُرْطُوْمِ ﴿۱۶﴾

ژر دی چې داغ به کېږدو ده لره په پوزه (خلتم) باندې (تحقیرًا).

تفسیر: وایي: «ولید بن مغیرة» د قریشو یو سردار وو، چې په هغه کې دا ګرد اوصاف مجتمع وو، پر پوزه او خلتم باندې یې له داغ ورکولو څخه د هغه رسوایي مختوروالی او سپکتیا مراده ده، ښایي چې په دنیا کې په حسّي ډول کوم داغ په ده باندې هم لوېدلی وي، یا به په آخرت کې ورباندې وخیژي.

اِنَّا بَلَوْنٰهُمْ كَمَا بَلَوْنَاۤ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ ۚ

بېشکه مونږ ومو ازمویل دغه (مکیّان په قحط سره) لکه چې ازمویلي وو مونږ خاوندان د باغ.

تفسیر: یعنې د مال او د اولاد زیادت د کوم مقبولیت علامت او نښه نه ده، او د الله تعالی په نزد د هسې شیانو څه قدر او قیمت نشته، نو ځکه نه ښایي چې د مکې کافران په دې شیانو باندې مغرور شي، دا خو د الله تعالی له لوري هغوی ته د ازموینې لپاره ورکړی شوي دي، لکه چې د پخوانیو خلقو ازموینه هم پرې شوې ده.

اِذْ اَقْسَمُوْا لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِيْنَ ﴿۱۷﴾ وَلَا يَسْتَثْنُوْنَ ﴿۱۸﴾

کله چې قسمونه وخوړل دوی ټولو چې هرومرو پرې به کړو مېوې د هغه باغ په اول وخت د صباح کې. او استثنا یې ونه کړه، إن شاء الله یې ونه ویل.

تفسیر: څو ورونه وو چې هغو ته له پلاره په ترکه کې یو مېوه دار باغ پاتې شوی وو، چې په هغه کې کر هم کېده، او ګرده کورنۍ د هغه له حاصلاتو ځنې خوشاله وه، د پلار په زمانه کې داسې عادت وو، په هغه ورځ کې چې به د باغ مېوې ټولېدې، یا کښت (فصل) رېبل کېده؛ نو د ښار ګرد فقیران او اړ سړي به هم هلته ټولېدل، او دې ګردو ته به د هغو مېوو او کښتو ځنې لږ او ډېر ورکول کېدل، او په همدې خیر او خیرات سره په هغه باغ کې لویه ګټه او برکت وو، د هغه له مړه کېدلو څخه وروسته د ده د ځامنو په فکر کې دا خبره ورو ګرځېده: دومره مېوه او کښت چې فقیران له مونږ ځنې وړي، که دا ګرد مونږ پخپله سره ټول کړو؛ نو مونږ ته به له هغه ځنې ډېرې ګټې راورسیږي، ولې داسې یو تدبیر به وکړو چې فقراء او نورو ته هیڅ ونه رسیږي، او ګرد حاصلات ځمونږ کورونو ته راشي، نو پخپلو منځونو کې یې سره مشوره وکړه، او دا یې سره غوټه کړه، چې سهار د وخته باغ ته ځو، او خپلې مېوې ټولوو، چې فقیران او نور کسان پرې خبر نه شي، دوی دا تدبیر داسې سره غوټه کړ، إن شاء الله تعالی یې هم په کې ونه ویل.

فَطَافَ عَلَيْهَا طَآئِفٌ مِّن رَّبِّكَ وَهُمْ نَآئِمُونَ ﴿١٩﴾ فَأَصْبَحَتْ كَالصَّرِيمِ ﴿٢٠﴾

پس نازله شوه پر دغه (باغ) یوه طواف کوونکې (بلاء ـ سووځونکی اور) په شپه کې له (طرفه د) رب ستا، حال دا چې دوی اوده وو. پس تر ګهیځ (سحر وختي) پورې وګرځېد (هغه باغ لکه له بېخه) رېبلی شوی کښت، یا تک تور لکه توره شپه.

تفسیر: یعنې د شپې له مخې سخته سیلی راوالوته، یا اور ولګېد، یا بل کوم آفت پرې نازل شو، او ګرد کښت او باغ له کاره ووت، او تک تور وګرځېد.

فَتَنَادَوْا مُصْبِحِينَ ﴿٢١﴾ أَنِ اغْدُوا عَلَىٰ حَرْثِكُمْ إِن كُنتُمْ صَارِمِينَ ﴿٢٢﴾ فَانطَلَقُوا وَهُمْ يَتَخَافَتُونَ ﴿٢٣﴾ أَن لَّا يَدْخُلَنَّهَا الْيَوْمَ عَلَيْكُم مِّسْكِينٌ ﴿٢٤﴾ وَغَدَوْا عَلَىٰ حَرْدٍ قَادِرِينَ ﴿٢٥﴾

بیا یې یو بل ته ورغږ کړل په وخت د صباح کې. (داسې) چې صباح له وخته ورشئ کښتو خپلو ته که چېرې یئ تاسې پرې کوونکي (د مېوې، لوکونکي د کښت ـ فصل). نو لاړل دوی او دوی پخپلو منځونو کې پټې خبرې سره کولې. (داسې) چې داخل نه شي هرومرو هغه (باغ ته) نن ورځ پر تاسې باندې هیڅ مسکین محتاج اړ مجبور سړی. او سهار لاړل په منع د فقیرانو سره (باغ ته) حال دا چې قادر وو (په منع د فقیرانو په زعم خپل).

تفسیر: یعنې په دې یقین او باور سره وخوځېدل چې اوس به درومي او ګرد کښت او د باغ حاصلات به په لاس راولي.

فَلَمَّا رَأَوْهَا قَالُوا إِنَّا لَضَالُّونَ ﴿٢٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴿٢٧﴾

بیا هر کله چې ویې لید هغه (باغ تک تور سوځېدلی)؛ ویې ویل: بېشکه مونږ خامخا لاره ورکه کړې ده (د خپل باغ). بلکه مونږ پخپله محرومه بې برخې شوي یو (له حاصلاتو په سبب د منعې د فقراوو).

تفسیر: هغه ځمکه او باغ داسې ډاګ ډېر شوی وو چې دوی هلته ورسېدل، هغه یې نشو پېژندلی، او داسې یې وګڼل چې لار یې ورکه کړې ده، او بل کوم لوري ته وتلي دي، نو بیا چې ښه ورته ځیر شول، او غور یې وکړ؛ وپوهېدل چې ځای خو همغه دی چې دوی ورته راغلي دي، مګر دوی له هغه ځنې بې برخې او بې نصیبه دي، او د الله تعالی له درباره محروم شوي دي.

قَالَ أَوْسَطُهُمْ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُونَ ﴿٢٨﴾

وويل منځني بهتر د دوی (په عقل کې): آیا ما نه وو ویلي تاسې ته: ولې په پاکۍ نه یادوئ تاسې الله، او توبه نه وباسئ له منع د فقیرانو؟ (یا ولې نه وایئ: إن شاء الله تعالى).

تفسیر: د دوی په منځ کې منځني ورور ډېر پوه او هوښیار وو، ده د مشورې په وخت هغوی ته تنبیه ورکړې وه، او دا خبره یې ورته ویلې وه چې وګورئ وروڼو ! الله تعالى مه هېروئ !، ځکه چې دا ټول د هغه احسان او انعام دی، نو تاسې هم له فقیرانو او مسکینانو څخه هغه مه منع کوئ !، کله چې چا د ده خبرې ته غوږ کښښود؛ نو دی هم چپ شو، او په پټه خوله هغوی سره ملګری شو، څرنګه چې دا خرابي یې ولیده؛ نو ژر یې هغه خبره بیا ور په یاد کړه.

قَالُوا سُبْحَانَ رَبِّنَا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿٢٩﴾ فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَلَاوَمُونَ ﴿٣٠﴾

وویل دوی: پاکي ده رب ځمونږ لره، بېشکه مونږ وو پخپله ظالمان (په منع د فقراوو کې)، بیا مخ واړاوه ځینې د دوی پر ځینو نورو باندې چې یو بل به یې ملامتوه.

تفسیر: اوس یې پخپل تقصیر باندې اعتراف وکړ، او ګردو د الله په لوري مخ واړاوه، او لکه چې د عمومي مصیبت د وخت قاعده ده؛ یو په بل باندې یې الزام لګولو او درګرده به یې یو بل د دې مصیبت سبب او عامل وشمېره.

قَالُوا يَا وَيْلَنَا إِنَّا كُنَّا طَاغِينَ ﴿٣١﴾ عَسَىٰ رَبُّنَا أَن يُبْدِلَنَا خَيْرًا مِّنْهَا إِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا رَاغِبُونَ ﴿٣٢﴾

وویل دوی: ای هلاک افسوس خرابي ده مونږ لره، بېشکه مونږ وو له حده تېرېدونکي. ښایي چې رب ځمونږ بدل راکړي مونږ لره خیر غوره له دې (باغچې) څخه، بېشکه مونږ رب خپل ته رغبت کوونکي یو.

تفسیر: په پای کې ټول سره یو ځای شول، ویې ویل: چې په ربښتیا سره مونږ ګرم او ملامت یو، ځکه چې مونږ د فقیرانو او غریبانو د برخې د خوړلو په قصد وتلي وو، او د حرص او طمع لامله مو اصلي ګټه هم له لاسه ووتله، دا څه خرابي چې مونږ ته رارسېدلې دي؛ د هغو ذمه وار مونږ پخپله یو، مګر اوس هم مونږ له الله تعالى څخه بې هیلې او ناامیده نه یو، او د هغه له مهربانۍ او لورینې ځنې دا خبره لرې نه ګڼو، چې هغه له خپل فضل او رحمت ځنې مونږ ته له هغه پخوانې باغ څخه یو بل ښه باغ را په برخه کړي.

كَذَٰلِكَ الْعَذَابُ ۖ وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٣٣﴾

همداسې (رائي آفت ـ عذاب په دنیا کې مخالفانو ته له حکمه د رب) او خامخا عذاب آفت د آخرت ډېر لوی دی، که چېرې وی دوی چې پوهېدلی (په سختۍ د عذاب د آخرت؛ نو مخالفت به یې نه وو کړی).

تفسیر: یعنې دا خو د دنیا د عذاب یوه وړوکې نمونه وه، چې هیڅا یې مخه نشوه نیولی، نو د آخرت د خورا لوی عذاب مخه به څوک ونیولی شي، که پوه وی؛ نو ښایي چې سړی په دې خبره باندې ښه وپوهیږي.

إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿٣٤﴾

بېشکه ویریدونکیو (له الله ځان، ساتونکیو له معاصیو) ته په نزد د رب د دوی جنّتونه ډک له نعمتونو دي.

تفسیر: یعنې د دنیا باغ او بهار پسې دومره زیات ولې لویدلي یئ، د جنّت باغونه له دې ځنې په څو څو درجو لوړ (اوچت) او غوړ دي.

أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ ﴿٣٥﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿٣٦﴾

آیا پس وبه ګرځوو مونږ مسلمانان (حکم منونکي) په شان د مجرمانو ګنهګارانو (په خلاصي او ثواب کې؟، بلکه نه یې ګرځوو). څه شوي دي تاسې ته، څرنګه حکم کوئ تاسې؟.

تفسیر: یعنې د مکّې کفّارو د غرور او تکبّر له مخې پخپلو زړونو کې داسې ټاکلي وو: «که د قیامت په ورځ پر مسلمانانو باندې عنایت او ښښنه وشي؛ نو پر مونږ باندې به له هغه څخه ښه او زیاته مرحمت کیږي»، او لکه چې په دنیا کې مونږ په آرامی او هوسایی کې یو، هلته به هم له مونږ سره همداسې معامله کیږي، نو دلته داسې فرمایي چې: دا به څرنګه کېدی شي؟ که داسې وشي؛ نو د دې مطلب به داسې وي چې د یوه وفا لرونکي غلام چې تل د خپل بادار د حکم منلو لپاره تیار ولاړ وي، او د یوه بدکار او باغي سړي انجام به سره یو شانته وي، بلکه هغه بدکار به له وفادار ځنې ښه وي، دا هغه خبره ده چې سلیم عقل او صحیح فطرت یې هیڅ نشي منلی.

أَمْ لَكُمْ كِتَابٌ فِيهِ تَدْرُسُونَ ﴿٣٧﴾ إِنَّ لَكُمْ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ ﴿٣٨﴾ أَمْ لَكُمْ أَيْمَانٌ عَلَيْنَا بَالِغَةٌ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ۙ إِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُونَ ﴿٣٩﴾ سَلْهُمْ أَيُّهُمْ بِذَٰلِكَ زَعِيمٌ ﴿٤٠﴾

آیا له تاسې سره شته کوم کتاب چې په هغه (له اسمانه نازل شوی کتاب) کې لولئ تاسې. داسې چې بېشکه تاسې لره دي په هغه (کتاب) کې خامخا هغه څه چې خوښوئ یې تاسې. آیا شته تاسې لره قسمونه پر (وعدو د) مونږ باندې چې رسېدلي وي تر ورځې د قیامت پورې بېشکه چې شته تاسې ته هغه چې پرې حکم کوئ تاسې؟. پوښتنه وکړه له دوی نه چې کوم یو له دوی نه په دغه (حکم چې کوي یې) ضامن ذمه اخیستونکی دی (دوی ته).

تفسیر: یعنې دا خبره چې مسلم او مجرم سره یو برابر وګڼل شي؛ ښکاره ده چې له عقل او فطرت څخه مخالفه ده، بیا د دې په تأکید او تأیید کې کوم عقلي دلیل هم له تاسې سره شته؟ آیا په کوم معتبر کتاب کې داسې کوم مضمون تاسې لوستی دی چې هر هغه شی چې تاسې یې د خپلو ځانونو لپاره غوره کوئ؛ همغه به تاسې ته درکاوه شي؟ او ستاسې ګردې غوښتنې او په زړه پورې خبرې پوره کېدونکې دي؟ یا به الله تعالی تر قیامت پورې داسې قسم خوړلی وي، چې تاسې هر هغه شی چې پخپلو زړونو کې وټاکی؛ همغه به تاسې ته درکاوه شي؟ او همغسې چې اوس تاسې هم په عیش او راحت کې یئ؛ تر قیامت پورې به په همدې حال کې وساتل شئ؟ هغه سړی چې د دوی له منځه داسې دعوی کوي، نو د دې خبرې د ثابتولو ذامه واري ښایي پخپله غاړه ونیسي، رایې وله او مخامخ یې ودروه چې ویې وینو او ویې پوښتو، چې له کومه وایي؟ او څه غږیږي؟.

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ ۚ فَلْيَأْتُوا بِشُرَكَائِهِمْ إِنْ كَانُوا صَادِقِينَ ﴿٤١﴾

آیا شته دوی لره شریکان (په دغه دعوی کې په زعم د دوی)؟ نو رادې ولي هغه شریکان خپل که چېرې وي دوی صادقان رښتیني؟ (په دعوی خپله کې).

تفسیر: یعنې که له هغوی سره هیڅ یو عقلي او نقلي دلیل نشته، او یواځې د دروغو بُتانو په نامه داسې ویناوې کوي، چې هغوی به له مونږ سره داسې او هسې کوي، او داسې مرتبې رابښي، ځکه چې هغوی (استغفر الله) په الوهیت کې

برخه لرونکي او مله دي؛ نو په داسې دعوو کې د هغوی رښتینوالی هغه وخت ثابتیږي چې دوی دې شریکانو ته د الله تعالی په مخ کې هم دعوت او بلنه ورکړي، او د هغوی په وسیله دې خپلې په زړه پورې خبرې او چارې پر دوی باندې اجراء کړي.

يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٤٢﴾

(او یاده کړه) هغه ورځ چې بربنډوالی به وکړی شي له پُنډې نه، او راوبه بللی شي دغه (کافران) طرف د سجدې کولو ته (لپاره د امتحان) پس توان به یې ونه شي (سجدې کولو ته).

تفسیر: د دې آیت کریمه دوه معناګانې دي:

(۱): «په هغه ورځ چې ښکاره به کړی شي د الله تعالی پنډې او الله تعالی به خلک سجدې کولو ته راوبلي، منافقین به سجده نشي کولی» لکه چې امام بُخاري (رحمه الله تعالی) د أبو سعید الخُدريّ رضي الله تعالی عنه څخه نقل کړی چې فرمایي: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې: ځمونږ رب به خپله پنډې ښکاره کړي، نو هر مؤمن سړی او هره مؤمنه ښځه به ورته سجدې وکړي، او هغه څوک به پاتې شي چې په دنیا کې یې د ریا او د شهوت په خاطر سجده کوله، نو وبه غواړي چې سجده وکړي، خو ملا به یې وچه سمه سیخه وګرځي، د سجدې کولو توان به نه لري، نو په دې حدیث کې د الله تعالی د پنډې صفت ذکر دی، مونږ پرې ایمان لرو، لکه څرنګه چې واجب دي، کیفیت یا تشبیه بیانول یې د مخلوقاتو د صفتونو سره ناروا دي، همدا راز معنی بدلول او تأویل کول په کې باطل دي، لکه څرنګ چې مونږ د الله تعالی د نورو صفتونو په کیفیت باندی نه پوهیږو هم دا راز د الله تعالی دا صفت هم داسې دي چې خیالات او فکرونه کول پکی هیڅ قسم ځای نه لري.

(۲): «په هغه ورځ چې سختي به ښکاره شي، سخت حالات به راشي، او منافقان به د سجدې کولو توان نه لري»، چې دا تفسیر د عبد الله بن عبّاس رضي الله تعالی عنهما او د ځینې تابعینو څخه نقل شوی دی.

خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ

حال دا چې ذلیلې ښکته به وي (له شرمه) سترګې د دوی.

تفسیر: یعنې د ندامت او شرمندګی لامله به یې سترګې ټیټې وي، او نه یې شي پورته کولی.

تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ وَقَدْ كَانُوا يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ وَهُمْ سَالِمُونَ ﴿٤٣﴾

راګېر کړي به وي دوی ذلت خواری، او ببشکه وو دوی (په دنیا کې) چې بلل کېدل دوی طرف د سجدې ته او دوی به وو روغ رمټ (نو سجده به یې نه کوله).

تفسیر: یعنې په دنیا کې هغوی ته د سجدې حکم ورکړی شوی وو، کله چې دوی روغ رمټ وو، او پخپل واک یې سجدې کولی شوې، هلته دوی په اخلاص سره هیڅ سجده ونه کړه، د هغه اثر داسې شو چې استعداد یې باطل شو، اوس که غواړي چې سجده وکړي؛ نه یې شي کولی.

فَذَرْنِي وَمَن يُكَذِّبُ بِهَٰذَا الْحَدِيثِ ۖ سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٤﴾

نو پرېږده ما او هغه څوک چې دروغ وایي په دې خبرې (قرآن) باندې، ژر ده چې وبه نیسو مونږ دوی ورو ورو (او نژدې به یې کړو عذاب ته) له هغه ځایه چې دوی نه دي پرې پوه.

تفسیر: یعنې د هغوی په عذاب کې لوېدل یقیني دي، خو د دوی د دې څو ورځني توقف او د عذاب د ډیل په نسبت تاسې مه خپه کېږئ، او د هغوی معامله ماته پرېږدئ، زه به پخپله د هغوی چاره وکړم، او داسې په ورو ورو او په تدریج سره به یې دوزخ ته بوځم، او زینه په زینه به راښکته کړو دوی، او ورو ورو به نژدې کړو دوی عذاب ته چې هغوی په ځان هم خبر نشي، دوی به پخپلو چُرتو کې ډوب تللي وي، خو د دوی بنسټونه له بېخه خېژي.

وَأُمْلِي لَهُمْ ۚ إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ ﴿٤٥﴾

او ټال ورکوم دوی ته (په دنیا کې) بېشکه ځما چال کلک دی.

أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٦﴾ أَمْ عِندَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤٧﴾

آیا ته غواړې له دوی ځنې (په تبلیغ د رسالت) څه اجر مزدوري؟ نو دوی د هغه له زیان تاوان څخه دروند بار کړی شوي دي (نو ځکه مخ درڅخه اړوي؟ بلکه نه یې غواړي). آیا شته په نزد د دوی پټه خبره علم الغیب، پس دوی یې لیکي؟ (له هغه څخه دغه حکم د برابرۍ د مؤمن او د کافر).

تفسیر: یعنې افسوس او د تعجّب ځای دی، چې دا خلق داسې د تباهۍ په لوري ورځي، څو ستاسې خبرې نه مني، آخر د دوی د نه منلو سبب څه شی دی؟ آیا تاسې له دوی ځنې کومه معاوضه تنخوا ـ کمېشن ـ او نور څه غواړئ چې د هغه لپاره هغوی ځان بېرته راکاږي؟ یا پخپله له هغوی سره د پټو خبرو څه حال او احوال شته؟ یا د الله تعالی وحي دوی ته راځي؟ او هغوی هغه په ډېر حفاظت سره لکه قرآن غوندې لیکي، نو ځکه ستاسې متابعت ته ځان اړ او مجبور نه بولي، او آخر به څه نه څه په منځ کې وي، کله چې پر هغوی باندې هیڅ یو بار نه اچول کېږي، او له هغه شي څخه دوی مستغني او بې پروا هم نه دي، نو د دوی د دې نه منلو سبب به پرته له ضده، عناده، انکاره، رخې، او عداوت بل شی کېدی نشي.

فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ الْحُوتِ إِذْ نَادَىٰ وَهُوَ مَكْظُومٌ ﴿٤٨﴾

نو صبر کوه حکم د رب خپل ته (په باب د منکرانو کې)، نو مه کېږه ته (په تنګ دلی او تلوار کې) لکه خاوند د ماهي کب (په تنګدلی او تلوار کې) کله یې چې غږ وکړ او دی وو ډک له غم غصې نه.

تفسیر: یعنې د کب په ځېدې کې تلونکي پیغمبر یونس علیه السلام په شان د مکذّبینو په معامله کې تنګدلي او وېره مه ښکاروئ، د دوی قصه پخوا له دې نه په څو ځایونو کې لږه لږه تېره شوې ده.

﴿إِذْ نَادَىٰ وَهُوَ مَكْظُومٌ﴾ «کله چې غږ وکړ او دی وو ډک له غم غصې نه»، یعنې د قوم له لوري له غصې نه ډک شوی وو، له ډېره قهره یې د عذاب په غوښتلو کې ډېره چالاکي بلکه پېښکویي وکړه.

لَوْلَا أَن تَدَارَكَهُ نِعْمَةٌ مِّن رَّبِّهِ لَنُبِذَ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ مَذْمُومٌ ﴿٤٩﴾

که چېرې نه وی دا چې موندلی وی ده نعمت احسان له لوري د رب د ده؛ نو خامخا به پرېوتی وو دی (له ځېدې د مهي نه) په سپېره ډګر (میدان) کې، او دی به ملامت کړی شوی وو.

تفسیر: یعنې د توبې له قبول څخه وروسته که د الله تعالی زیات فضل او احسان د هغه لاس نیونه نه وی کړې؛ نو په هغه وچ کلک لوی میدان کې چې د ماهي له ګډې څخه د باندې لوېدلی همغسې ملزم شوی به پروت وو، او هغه کمالات او کرامات به بیا نه ورته بښل کېدل، خو یوائې د الله تعالی د فضل او مهربانۍ لامله د هغه د ابتلاء په وخت کې هم هغه شیان له هغه سره پاتې وو.

فَاجْتَبٰهُ رَبُّهٗ فَجَعَلَهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۵۰﴾

پس غوره کړ دغه (یونس) لره رب د ده (په نبوّت سره)؛ نو ګرځولی یې وو دی له کاملانو صالحانو انبیاوو څخې.

تفسیر: یعنې بیا یې د هغه نوره رتبه هم لا اوچته کړه، او په اعلی درجه نېکو خلقو کې یې ورداخل کړ، په حدیث کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې: «له تاسې څخې دې هیڅ یو داسې نه ونه وایي چې زه د یونس علیه السلام ابن متّی څخه ښه او بهتر یم».

وَاِنْ يَّكَادُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَيُزْلِقُوْنَكَ بِاَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُوْلُوْنَ اِنَّهٗ لَمَجْنُوْنٌ ﴿۵۱﴾

او بېشکه نژدې وو هغه کسان چې کافران شوي دي چې خامخا وبه ښویوي تا (وبه دې غورځوې په ځمکه) په سترګو خپلو سره هر کله چې واورېده دوی قرآن (ستا له ژبې)، او وایي دوی (د کینې له مخې) بېشکه دغه (محمد) لېونی دی.

تفسیر: یعنې د قرآنکریم له اورېدلو څخه له غیظ او غضبه خوټکیږي، او په هسې ډډو سترګو تاسې ته ګوري چې تاسې پخپلو سترګو سره له ځایه وښویوي، یا خامخا هلاک کړي تا لره، یا دې وغورځوي له مرتبې خپلې نه، او په ژبه سره هم چتې اپلتې خبرې کوي، چې (استغفر الله) دا سړی لېونی شوی دی، او د ده هیڅ یوه خبره (نعوذ بالله) د التفات وړ نه ده، مقصد دا دی چې داسې غواړي چې تاسې وویروي، او د صبر او استقامت له ځایه مو وخوځوي، مګر تاسې همغسې سم پخپل مسلک باندې کلک اوسئ !، او مه زړه تنګه کېږئ، او په هره معامله کې خپل خپګان مه ښکاره کوئ !، او مه چالاکي کوئ !، وېره او مداهنت مه اختیاروئ !.

وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۵۲﴾

او حال دا دی چې نه دی دا (قرآن) مګر خو ذکر پند دی ټولو عالمیانو لره.

تفسیر: یعنې په قرآن کې د لېونتوب او جنون خبرې چېرې دي، هغه خو د ګردې نړۍ او نړۍ والانو لپاره د خورا لوی ذکر، پند او د نصیحت لویه ذخیره ده، په دې کې د بني نوع انسان اصلاح او فلاح چارې پرتې دي، او په ربښتیا سره همغه سړی لېونی باله شي چې د دې پاک کلام لېونی نه وي، او د زړه په اخلاص سره یې نه مني.

تمّت سورة القلم بفضل الله وکرمه ومنّه.

سُورَةُ الحَاقَّةِ

«د (الحاقة) سورت مکي دی، (۵۲) آیته (۲) رکوع لري، په تلاوت کې (۶۹) او په نزول کې (۷۸) سورت دی، وروسته د (الملک) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

اَلْحَآقَّةُ ۝١ مَا الْحَآقَّةُ ۝٢

هغه (قیامت) حق واقع کېدونکی. څه شی دی هغه حق واقع کېدونکی؟.

تفسیر: یعنې د قیامت هغه ګړۍ چې د هغې راتلل له ازله د الله تعالی په علم کې ثابت او ټاکلی شوی دی، کله چې حق له باطل څخه بالکل بېکاره او بې له کوم التباس او اشتباه څخه هر شی بېل او جلا کیږي، او د هغه د ذات په نسبت ګرد جګړه کوونکي هلته مغلوب او مقهور کیږي، نو هلته به وپوهېدی شي چې هغه ګړۍ څه شی ده؟ او څرنګه احوال او کیفیات په هغې کې شته؟.

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْحَآقَّةُ ۝٣

او څه پوه کړی یې ته چې څه شی دی هغه (قیامت) حق واقع کېدونکی.

تفسیر: یعنې که هر څومره یو خورا لوی سړی هر څومره فکر ووهي، او خپل چرت او جاج وچلوي، د هغې ورځې د ویروونکې نندارې او زړه خوځوونکې پېښې منظرې ته یې فهم او ادراک نه ورسیږي.

كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ وَعَادٌۢ بِالْقَارِعَةِ ۝٤

دروغ ګڼلی وو ثمودیانو او عادیانو (هغه قیامت) ټکوونکي (د زړونو او د غوږونو په سختیو سره).

تفسیر: یعنې د ثمود او د عاد قومونو دا د قیامت راتلونکې ګړۍ دروغ وبلله، چې هغه به ګرد ځمکه، اسمان، لمر، سپوږمی، ستوري، غرونه او سړي ټکوي، او ډېر سخت شیان تري وړۍ وړۍ او ذري کیږي، بیا وګوره چې د دې دواړو انجام او پای څرنګه شو؟.

فَاَمَّا ثَمُوْدُ فَاُهْلِكُوْا بِالطَّاغِيَةِ ۝٥

پس هر چې ثمودیان وو؛ نو هلاک کړل شو (هغوی) په سخت اواز (د جبریل یا په سبب د سرکښۍ خپلې).

تفسیر: یعنې یوه سخته زلزله له یوه سخت اواز د جبریل علیه السلام سره یو ځای راغله، او ګرد یې سره لاندې باندې کړل یا هلاک شول، ثمودیان په سبب د سرکشیو خپلو سره چې د صالح علیه السلام ناقه یې ګوډه او هلاکه کړه.

وَاَمَّا عَادٌ فَاُهْلِكُوْا بِرِيْحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ۙ﴿۶﴾

او هر چې عادیان وو؛ نو هلاک کړی شوي وو (دوی) په باد سخت اواز کوونکي (یا په ډېر سخت له حده تېر بدونکي یخ باد).

تفسیر: یعنې هغه باد دومره سخت او شدید وو چې په هغه باندې د هیڅ یوه موجود زور نه رسېده، تر دې حده چې هغو پرښتو له واکه هم د هغه سخت باد اداره کول نه وو پوره، او د هغوی له لاسو ځنې هم الوت، چې د هغه باد په اراده باندې مسلطې او مقررې وې.

سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَّثَمٰنِيَةَ اَيَّامٍ ۙ حُسُوْمًا فَتَرَى الْقَوْمَ فِيْهَا صَرْعٰى ۙ كَاَنَّهُمْ اَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ۚ﴿۷﴾ فَهَلْ تَرٰى لَهُمْ مِّنْۢ بَاقِيَةٍ ۝﴿۸﴾

مقرر کړی وو (الله) دغه (باد) پر دوی باندې اووه شپې او اته ورځې متواتر پرله پسې برابر، نو لیده به تا هغه قوم (د عاد) په هغه کې لوېدلي (مړه پراته په ځمکه باندې)، ګواکې دوی (له جهت د لویوالي د جثو ببخونه) ډډونه د خرماوو دي (هلاک پرېوتلي په ځمکه باندې). نو آیا وینې ته کوم یو (نفس) له دوی ځنې باقي پاتې شوی (بلکه هیڅ یې نه وینې).

تفسیر: یعنې هغه قومونه چې لنډک وهلي د مباحثې او مناقشې ډګر ته راووتي وو، او په لوړو غږونو سره به یې ویل: څوک به وي چې له مونږ ځنې زیات زور ولري؟ هغه ځمونږ له هغه زورور باد او ورښ سره مقابله ونشوه کړی، او ډېر پهلوانان یې د هغه زورور ورښ (باد) د څپېړو په مخ کې داسې کم قوّت او بې سیکه او اوږده غځېدل لکه د خرما لوی ډډونه چې سرونه یې وهلی شوي او له ببخه او بنسټ څخه راویستل شوي وي، نو آیا وینې ته کوم یو له دوی ځنې پاتې شوی؟ بلکه وبه نه وینې یو تن هم له هغوی څخه پاتې شوی، یعنې د هغو قومونو ذریه او نسل پاتې نشو، او د دنیا له مخ څخه بیخي فنا شو.

وَجَآءَ فِرْعَوْنُ وَمَنْ قَبْلَهٗ وَالْمُؤْتَفِكٰتُ بِالْخَاطِئَةِ ۚ﴿۹﴾ فَعَصَوْا رَسُوْلَ رَبِّهِمْ فَاَخَذَهُمْ اَخْذَةً رَّابِيَةً ۝﴿۱۰﴾

او راغی فرعون او هغه چې پخوا له هغه ځنې وو او (اهل د) کلیو چپه (الټه) کړی شویو په ګناهونو سره (چې شرک وو). نو حکم ونه مانه دوی د رسول د رب د دوی، نو (الله) ونیول هغوی په نیولو سختو سره.

تفسیر: یعنې وروسته له عاد او ثمود څخه فرعون ډېرې سختې خبرې او تکبّر او ځانمنی کولې، او پخوا له هغه څخه نور څو قومونه هم سره له لویو ګناهونو تېر شوي دي، لکه د نوح قوم او د شُعیب قوم او د لوط قوم، چې د هغوی کلي سره له کلیوالو د هغو په بل مخ واړول شول، دوی ګردو د خپلو خپلو پیغمبرانو خبرې نه منلې، او د الله تعالی مقابلې ته راوتلي وو، او د الله تعالی له احکامو څخه یې غاړې غړولې، په پای کې د الله تعالی له لوري دوی ګرد په لویو آفتونو سره ککړ شول، او په هسې سختو بلاوو کې اخته شول چې د هغوی ژغورنه له هغه ځنې مشکله وه، هو ! د الله تعالی په مخ کې د هیڅا له لاسه هیڅ شی نه دي پوره.

إِنَّا لَمَّا طَغَا الْمَاءُ حَمَلْنَاكُمْ فِي الْجَارِيَةِ ﴿١١﴾ لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَتَعِيَهَا أُذُنٌ وَاعِيَةٌ ﴿١٢﴾

بېشکه مونږ هر کله چې طغیان وکړ اوبو راپورته شوې په هر شي باندې؛ پورته کړي وو مونږ تاسې په تلونکې بېړۍ (د نوح) باندې. لپاره د دې چې وګرځوو مونږ دا (واقعه) تاسې ته تذکره پند (په نجات د مؤمنانو او غرق د کافرانو)، او په یاد دې ولري (ودې ساتي) دا (نصیحت) غوږونه یادوونکي ساتونکي.

تفسیر: یعنې د نوح علیه السلام په زمانه کې کله چې طوفان راغی، نو ښکاره وه چې په هیڅ ډول د هیڅ یو انسان پاتې کېدل او ژغورنه له هغه ځنې ممکنه نه وه، او ځمونږ قدرت او عام انعام، اکرام او احسان وو چې ګرد منکران مو ډوب کړل، او یواځې نوح علیه السلام او د هغه ملګریو ته مو نجات ورکړ، نو ښه په داسې یوه لوی طوفان کې د هغې وړوکې بېړۍ سلامت پاتې کېدل له توقع او هیلې ځنې لوړ کار نه دی؟ او آیا هغه ځمونږ د قدرت او حکمت یوه علامه او ننبه نه ده؟ تر څو هغه ژغورلی شوي انسانان د هغه لوی طوفان او د خپلې ژغورنې قصې نورو ته وکړي، او په دې ډول سره دا پېښه تر آخره پورې د هر سړي په یاد پاتې وي، نو دغه خبرې د هغو غوږونو له یاده چې کومه معقوله خبره اوري او پرې پوهیږي، او په یاد یې ساتي؛ هیڅکله به نه هیریږي چې په یوه زمانه کې د الله تعالی له لوري ځمونږ پر پلرونو باندې هسې یو لوی احسان شوی دی، او په دې باندې وپوهیږي، لکه چې د دنیا په جګړو او پېښو کې تل فرمانبرداران له نافرمانانو ځنې بیلیږي؛ همداسې حال به د قیامت په ویروونکي (حاقّة) کې هم کېدونکی وي، وروسته له دې نه بیا الله تعالی أجلّ شأنه وأعظم برهانُه په همدې لوري خپل کلام منتقل کوي.

فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَاحِدَةً ﴿١٤﴾ فَيَوْمَئِذٍ وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١٥﴾

بیا کله چې پوکی وشي په صور شپېلۍ کې پوکی یو. او پورته کړه شي ځمکه او غرونه (له خپلو ځایونو) نو مات به کړل شي دا دواړه (توتې توتې) په ماتولو یوه سره. نو په دغه ورځې کې به واقع شي (هغه) واقع کېدونکی (قیامت).

تفسیر: یعنې د صور (شپېلۍ) له پوکېدلو سره به سم ځمکه او غرونه له خپل اصلي صورت ځنې راووځي، او ګرد سره وړوکي وړوکي ذرې ذرې او بخرکي بخرکي کیږي، نو همدا د قیامت د قائمېدلو وخت دی.

وَانْشَقَّتِ السَّمَاءُ فَهِيَ يَوْمَئِذٍ وَاهِيَةٌ ﴿١٦﴾ وَالْمَلَكُ عَلَىٰ أَرْجَائِهَا

او وبه چوي (څیرې به شي) اسمان، بیا به هغه (اسمان) په دغه ورځ کې سست ضعیف وي. او ملائکې پرښتې به وي په څنډو (غاړو) د هغه (اسمان).

تفسیر: یعنې نن ورځ چې اسمان دومره کلک او مضبوط دی، چې سره د لکونو کلونو د تېرېدلو بیا هم هیڅ یو سوری او کنډو په کې نه لیده کیږي، په هغې ورځې کې به شلیږي، او توتې توتې کیږي به، کله چې د هغه د منځنۍ برخې نړېدل شروع کیږي؛ نو پرښتې به د هغه څنډې ته ځي.

وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَانِيَةٌ ﴿١٧﴾

او پورته به کړي عرش د رب ستا له پاسه د دوی په هغه ورځ کې اته (پرښتې).

تفسیر: اوس څلورو پرښتو عظیم عرش راپورته کړی دی، چې د هغه د لویوالي او ارتوالي علم یواځې له پاک پروردګاره سره دی، په هغه ورځ کې له هغوی سره څلور پرښتې نورې هم ملګرې کیږي.

يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ لَا تَخْفَىٰ مِنكُمْ خَافِيَةٌ ﴿١٨﴾

په دغه ورځ کې به تاسې حاضر وړاندې کړل شئ (الله ته سره د حساب)، پټه به نه پاتې کیږي له (اعمالو د) تاسې هیڅ یوه پټه خبره.

تفسیر: یعنې په هغه ورځ کې به تاسې د الله تعالی دربار ته راحاضر کړی شئ، او د هیڅا هیڅ یوه نیکي او بدي به نه پټیږي، او ګرد عام منظر ته به راښکاره کړی شي.

فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ فَيَقُولُ هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ ﴿١٩﴾

نو هر هغه څوک چې ورکړ شي کتاب عمل نامه د ده په ښي لاس د ده؛ نو وبه وایي (له خوشالی داسې چې) راشئ (واخلئ) او ولولئ تاسې دا ځما کتاب عملنامه.

تفسیر: یعنې په هغې ورځې کې هره اعمالنامه چې په ښي لاس کې ورکړه شي؛ هغه د نجات او د مقبولیت علامه ده، نو هغه له ډېرې خوښۍ ځنې هر سړي ته ورښکاروي او وایي به چې: راځئ ځما اعمالنامه ولولئ.

إِنِّي ظَنَنتُ أَنِّي مُلَاقٍ حِسَابِيَهْ ﴿٢٠﴾

بېشکه ما یقین کاوه (په دنیا کې) چې بېشکه زه مخامخ کېدونکی یم له حساب خپل سره.

تفسیر: یعنې په دنیا کې یې هسې خیال کاوه چې یوه ورځ به ضرور ځما حساب او کتاب اخیست کیږي، نو ځکه زه ویرېدم او د خپل ځان سره مې محاسبه کوله، نن شکر دی چې د هغه په زړه پورې نتیجه وینم، چې د الله جل جلاله په فضل ځما حساب بالکل صاف او پاک دی.

فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٢١﴾ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿٢٢﴾ قُطُوفُهَا دَانِيَةٌ ﴿٢٣﴾

نو هغه (شخص) دی په عیش ښه کې (چې دی به پرې راضي وي). په جنّت عالي لوی اوچت کې. چې میوې به یې ډېرې نژدې وي.

تفسیر: چې په ولاړه، ناسته، ملاسته او هر وخت کې په ډېره اسانۍ سره په لاس راځي، او په ښه ډول سره شوکولی کیږي.

كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا أَسْلَفْتُمْ فِي الْأَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴿٢٤﴾

(ورته وبه ویل شي) خورئ او څښئ په اشتها هضم سره په سبب د هغو عملونو خپلو چې مخکښې لیږلي وو تاسې په ورځو تېرو شویو د دنیا کې.

تفسیر: یعنې په دنیا کې تاسې خاص د الله تعالی لپاره د خپلو نفساني او خواهشاتو مخې مو نیولې وې، او د لوړې او تندې ربړونه مو پر ځای اخیستې وو، نن هیڅ یو رنځ او تکلیف په تاسې باندې نشته، په ښو مزو او اشتها سره هر شی مو چې زړه غواړي؛ خورئ او څښئ یې !، ځکه چې نه مو طبیعت خفه او نه منغض او نه منقبض کیږي، او نه د بدهضمۍ او د بولو او غائطو او د بلې ناروغۍ اندېښنه له تاسو سره شته، او نه مو د دې نعمتونو زوال په تصوّر کې راځي.

وَ اَمَّا مَنْ اُوْتِیَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ ۙ فَیَقُوْلُ یٰلَیْتَنِیْ لَمْ اُوْتَ كِتٰبِیَهْ ۚ﴿۲۵﴾ وَ لَمْ اَدْرِ مَا حِسَابِیَهْ ۚ﴿۲۶﴾
یٰلَیْتَهَا كَانَتِ الْقَاضِیَةَ ۚ﴿۲۷﴾ مَاۤ اَغْنٰی عَنِّیْ مَالِیَهْ ۚ﴿۲۸﴾ هَلَكَ عَنِّیْ سُلْطٰنِیَهْ ۚ﴿۲۹﴾

او هر هغه څوک چې ورکړ شي کتاب عملنامه د ده په کېڼ لاس د ده؛ نو وبه وايي (له غمه داسې چې) ای کاشکې نه وی راکړی شوی ماته دا کتاب اعمالنامه ځما. او نه وم پوه شوی زه چې څه دی حساب ځما. ای کاشکې وی (ړومبنی مرګ ځما په دنیا) خلاصوونکی (ځما له دویم حیات). هیڅ دفع ونه کړه له ما ځنې مال ځما. برباد شو له ما ځنې سلطنت حکومت ځما.

تفسیر: یعنې د شا له لوري په کېڼ لاس کې د هر چا اعمالنامه چې ورکوله کیږي؛ هغه پوهیږي چې په ما باندې کمبختي راغلې ده، نو په دې وخت کې په ډېر حسرت سره داسې تمنّا کوي چې کاشکې ځما دا أعمالنامه نه وی راکړی شوې، او زه نه خبرېدی چې ځما حساب او کتاب څرنګه دی، کاشکې په مړینې مې دا قصه پای ته رسېدلې وی، او زه د تل لپاره مړ پروت وی، او له مړینې څخه وروسته مې بیا دا ژوندون نه په برخه کېدی، او که ژوندی کېدم خو بیا زر د مرګي یوه لقمه او نمړۍ کېدلی ! !، افسوس چې هغه مال، جاه، حکومت او دولت مې هیڅ په کار رانغی، او نن مې د هغو ګردو شیانو هیڅ یو شی په سترګو نه راځي، نه څه دلیل او حجّت په لاس لرم، او نه څه عذر او معذرت کولی شم.

(نو الله تعالی أجلّ شأنُهُ وأعظم برهانُه خازنانو د جحیم ته داسې حکم فرمایي چې):

خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ ۙ﴿۳۰﴾ ثُمَّ الْجَحِیْمَ صَلُّوْهُ ۙ﴿۳۱﴾ ثُمَّ فِیْ سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا
فَاسْلُكُوْهُ ؕ﴿۳۲﴾

ونیسئ دئ ! پس په ځنځیر سره وتړئ دی !. بیا (اور د) دوزخ ته وغورځوئ دی !. بیا په یوه ځنځیر کې چې ګزونه د هغه اویا ګزه وي پس ننه باسئ دی (په دوزخ کې) !.

تفسیر: پرښتو ته به حکم کیږي چې هغه ونیسئ !، او غاړکۍ یې په غاړه ورواچوئ !، او په اور کې یې غوپه کړئ !، او په هغه ځنځیر کې یې چې اوږدوالی یې اویا ګزه دی وتړئ !، تر څو د سوځېدلو په وخت کې هیڅ ونه خوځېدی شي، ځکه چې د دې خوا او هغې خوا له خوځېدلو ځنې سوځېدونکی لږ څه تخفیف حس کولی شي.

تنبیه: له ګز ځنې د هغه ځای ګز مراد دی، چې د هغه اندازه هم الله ته معلومه ده.

اِنَّهٗ كَانَ لَا یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ الْعَظِیْمِ ۙ﴿۳۳﴾ وَ لَا یَحُضُّ عَلٰی طَعَامِ الْمِسْكِیْنِ ؕ﴿۳۴﴾

بېشکه دی وو (په دنیا کې) چې ایمان یې نه راووړ په الله لوی باندې. او تأکید تېزوالی به یې نه کاوه په طعام ډوډۍ ورکولو د مسکینانو محتاجانو باندې.

تفسیر: یعنې چې په دې دنیا کې اوسېده، نه یې د الله تعالی حق پېژنده، او نه یې د بندګانو د حقوقو ساتنه کوله، د فقیرانو او د محتاجانو لاس نیونه او ګروېږنه (تپوس) چېرې، حتّی نورو ته یې هم په دې مورد کې څه تشویق او ترغیب ورنه کړ، بیا په الله تعالی باندې همغسې چې ښایي؛ ایمان یې رانه ووړ، نو نجات به چېرې وي؟.

فَلَیْسَ لَهُ الْیَوْمَ هٰهُنَا حَمِیْمٌ ۙ﴿۳۵﴾

نو نشته ده ته نن ورځ په دې ځای کې کوم دوست (دافع د عذاب).

تفسير: يعنې لکه چې هغه الله تعالى يې خپل دوست نه کړ؛ نو نن به د هغه دوست څوک شي چې د ده حمايت وکړي؟ او دى له عذابه وژغورې؟ يا د مصيبت په وخت کې تسلي ورکړي؟.

وَّلَا طَعَامٌ اِلَّا مِنْ غِسْلِيْنٍ ﴿۳۶﴾ لَّا يَاْكُلُهٗۤ اِلَّا الْخٰطِـُٔوْنَ ﴿۳۷﴾

او نشته هيڅ طعام (چې ويې خوري) مګر خو (د دوزخيانو د زخمونو) له وينو او زوو ځنې. چې نه خوري دغه (غسلين) مګر همغه خطاکاران ګنهګاران (يې خوري).

تفسير: له طعام او خوړو څخه انسان ته قوّت رسيږي، مګر دوزخيانو ته هيڅ يو داسې مرغوبه خواړه نه وررسيږي چې د هغوى د راحت او د قوت سبب شي، هو ! يوائې هغوى ته به د دوزخيانو د زخمونو زوې ورکولى کيږي، چې هغه به پرته له هغو ګنهګارانو څخه بل څوک نشي خوړى، او هغه هم د لوږې او تندې له شدّته تږوتلي په دې خيال سره يې خوري، او داسې يې ګڼي چې د هغه ځنې هغه ته څه ګټه وررسيږي، وروسته له هغه دا ورښکاريږي چې د هغه خوړلو د لوږې له ربړه لوى تکليف ورپېښ کړ، (أعاذنا الله من سائر أنواع العذاب في الدنيا والآخرة).

فَلَاۤ اُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَمَا لَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ كَرِيْمٍ ﴿۴۰﴾

نو قسم خورم زه په هغو شيانو چې وينئ يې تاسې. او په هغو شيانو چې نه يې وينئ تاسې. بېشکه دا (قرآن) خامخا خبره د رسول مکرم عزتمن ده.

تفسير: يعنې هر څه چې د جنّت او د دوزخ او نورو په نسبت بيان شو؛ دا کومه شاعري نه ده، او نه د کهانت اټکلونه او چټې (بېکاره) خبرې دي، بلکه دا قرآنکريم د الله تعالى کلام دى، چې له الله تعالى له خوا نه يې يوه لويه پرښته جبريل عليه السلام راوړي، او يو لوى پيغمبر محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې اوروي، هغه پرښته چې دغه قرآنکريم د الله تعالى له خوا نه راوړي، او دغه محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم چې هغه قرآن شريف په ځمکه کې انسانانو ته وررسوي؛ دا دواړه عزتمن رسولان دي، د يوه کرامت خو تاسې پخپلو سترګو سره وينئ، او د بل کرامت او لويي د هغه اول کريم د بيان ځنې تاسې ته ثابته شوې ده.

وَّمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ ؕ قَلِيْلًا مَّا تُؤْمِنُوْنَ ﴿۴۱﴾

او نه ده دا خبره د کوم شاعر، بيخي لږ ايمان راوړئ تاسې (بلکه نه مؤمنان کېږئ).

تفسير: يعنې د قرآنکريم په کلام الله والي باندې کله کله ستاسې په زړونو کې له يقين ځينې پلوشې راځليږي، مګر ډېر لږ چې د نجات لپاره کافي نه دى، آخر ولې د دې کلام الله په نسبت د شاعرى او کاهنى خبرې کوئ؟ آيا د واقعي انصاف له مخې دا ويلى شئ؟ آيا دا د کوم شاعر کلام کېدى شي؟ او د شعر له قسم څخه دى؟ په شعر کې وزن، بحر او نورو شتوالى ضروري دى، او په قرآنکريم کې د هغو شيانو نښه نشته، د شاعرانو خبرې زياتره بې اصله وي، او زياتره مضمونونه يې يوائې وهمي او خيالي وي، او حال دا دى چې په عظيم الشأن قران کې ټول ثابته حقايق او محکمه اصول په قطعي دلائلو او يقيني حُجّتونو سره بيان شوي دي.

وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۲﴾

او نه ده دا خبره د کاهن (ترويتي لکه چې تاسو ګمان کوئ)، لږ پند اخلئ تاسې (بلکه نه يې اخلئ).

تفسیر: یعنې په پوره فکر سره یې رامعلوم کړئ، او ښه چرت (خیال) په کې ووهئ !، چې دا د کوم شاعر او کاهن کلام نه دی، کاهنان په عربو کې همغه خلق وو چې له بُتانو، پیریانو او نورو خرافاتو او رذائلو سره یې تعلّقات او مناسبات لرل، دوی خلقو ته د کومې جزوي غیبي خبرې په نسبت ځینې مقفّا او مسجّع خبرې اورولې، مګر د پیریانو په کلام کې معجزې نه وې، چې هغه غوندې بل څوک به خبرې نشي کولی، بلکه که کوم جنّ کوم ترویتي بامبړ (کاهن) ته کومه خبره وروښیي؛ بل پیری هم همغسې ورښوولی شي، او دا کلام یعنې پاک قرآن داسې یوه معجزه ده چې ګرد جنّ او انس که سره یو ځای شي، د هغه په شان کومه خبره نشي جوړولی، د نورو کاهنانو او ترویتیانو بامبړانو په خبره کې یواځې د قافیې او د سجعې د رعایت لپاره ډېر الفاظ راوړي چې بالکل بېکاره وي، خو په دغه معجز نظام کلام کې یو حرف او توری یو حرکت هم بېکاره او بې فائدې نه دی.

تَنْزِيلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۳﴾

دغه (قرآن) نازل شوی دی له (جانبه د پالونکي) رب د عالمیانو.

تفسیر: ځکه چې د ګردې دنیا د تربیت ډېر اعلی او کلک اصول په دغه عظیم الشأن قرآن کې بیان شوي دي.

وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْاَقَاوِيْلِ ﴿۴۴﴾ لَاَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِيْنِ ﴿۴۵﴾ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِيْنَ ﴿۴۶﴾ فَمَا مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ عَنْهُ حٰجِزِيْنَ ﴿۴۷﴾

او که له ځانه جوړولی (محمد) مونږ باندې ځینې خبرې (چې مونږ ورته نه وي ویلې). نو هرومرو (خامخا) بدل اخیستی به وو مونږ له ده په ښي لاس سره (او یا نیولی به مو وو د ښي لاسه او عذاب به مو ورته ورکړی وو). بیا به خامخا پرې کړی وو مونږ له ده رګ د زړه (او وژلی به مې وو). پس نه به وو هیڅوک له تاسې څخه (یعنې نه یئ تاسې له قتل د) هغه (محمد) ځنې منع کوونکي (ما لره).

تفسیر: شاه عبد القادر (رحمه الله) لیکي: «یعنې که ده دروغ پر الله تعالی باندې جوړول؛ نو اول به یې الله تعالی دښمن کېده، او له لاسه به یې نیوه، قاعده ده چې د ورمېړ وهلو په وخت کې جلادان مقتولان له ښي لاس څخه اخلي، تر څو له خپل ځای څخه له سره ونه ښوریږي».

وَاِنَّهٗ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۸﴾ وَاِنَّا لَنَعْلَمُ اَنَّ مِنْكُمْ مُّكَذِّبِيْنَ ﴿۴۹﴾ وَاِنَّهٗ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۰﴾

او بېشکه دغه (قرآن) خامخا تذکره پند دی ویرېدونکیو لره (چې نفع ترې اخلي). او بېشکه مونږ ته خامخا معلوم دي دا چې بېشکه ځینې له تاسې څخه دروغ ګڼونکي دي (قرآن لره). او بېشکه دغه (انکار له قرآن) خامخا سبب د پښېمانۍ دی پر منکرانو کافرانو باندې.

تفسیر: یعنې له الله تعالی څخه ویریدونکي د دې خبرې له اورېدلو څخه پند اخلي، او د هغو په زړونو کې چې وېره نه وي؛ هغه یې دروغ ګڼي، لیکن یو وخت داسې راتلونکی دی چې دا کلام او د هغوی دا دروغ بلل به د سخت حسرت او پښېمانۍ سبب شي، او هلته به ارمان کوي چې ولې مو هسې رښتیا خبره دروغ وبلله، چې نن د هغې لامله په دې آفت ککړ شوي یو.

وَإِنَّهُۥ لَحَقُّ ٱلْيَقِينِ ﴿٥١﴾ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴿٥٢﴾

او بېشکه دغه (قرآن) خامخا (عين) حق يقين (محض او د منلو وړ ـ قابل) دی. پس تسبيح پاکي ووايه په نامه د رب خپل چې له ګردو ځنې عظيم ډېر لوی دی.

تفسير: يعنې دا کتاب خو داسې حق او رښتيا دی چې له حده تېر د منلو وړ (لايق) دی، او د هغه مضامين له سره تر آخره پورې رښتيا او هيڅ يو شک او شُبهه په کې نشته، ښايي چې هر سړی په هغه باندې ايمان راوړي، او تل د الله تعالی په عبادت او تسبيح او تحميد کې مشغول اوسي.

تمّت سورة الحاقة بفضل الله ومنّه، فلله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ المَعَارِجِ

«د (المعارج) سورت مکّي دی، (۴۴) آیتونه (۲) رکوع لري، په نزول کې (۷۹) او په تلاوت کې (۷۰) سورت دی، وروسته د (الحاقة) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

سَاَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ ۙ لِّلْكٰفِرِيْنَ لَيْسَ لَهٗ دَافِعٌ ۙ

وغوښت غوښتونکي یو عذاب واقع کېدونکی لوېدونکی. (منکرانو) کافرانو لره چې نشته هغه ته دفع کوونکی (چې راشي).

تفسیر: شاه صاحب (رحمه الله) لیکي: «یعني پیغمبر تاسي ته عذاب غوښتی دی، چې هغه هیڅوک له تاسې ځنې نشي لرې کولی»، یا به غوښتونکي کفّار وي چې ویل به یې: آخر هغه عذاب ولې ژر نه راځي چې وعده یې مونږ ته راکړی شوې ده؟ ای الها ! که د محمد دا وینا په رښتیا وي؛ نو پر مونږ باندې له اسمانه تیږې ولې نه وریږي؟ دا خبرې به یې د انکار او تمسخر له لارې کولې.

مِّنَ اللّٰهِ ذِي الْمَعَارِجِ ۚ

له طرفه د الله چې څښتن د لویو لوړو (اوچتو) زینو دی.

تفسیر: یعني پرښتې او د مسلمانانو ارواح ګرد اسمانونه درجه په درجه طی کوي، د هغه دربار ته ورنژدې کیږي، او دا درجې د مسافت او د لرېوالي او نژدېوالي له پلوه سره مختلفې او متفاتې دي، او فرق او توپیر لري، ځینې داسې چې: په یوه رپه کې د هغه د لوړوالي سبب کېدی شي، لکه د اسلام کلمه په ژبه سره ویل، او ځینې داسې دي چې یوه ګړی په هغه سره ترقي حاصلیږي لکه اودس او لمونځ کول، او ځینې په پوره ورځ کې لکه روژه یا په کامله میاشت کې لکه د رمضان د میاشتې روژه نیول، او ځینې په پوره یو کال لکه حج کول، (وعلی هذا القیاس) همدا راز د پرښتو او د ارواحو عُروج چې په هر کار باندې مقرر دی، وروسته له دې چې له هغه ځنې فراغت وموميي، هم مختلف او متفاوت دي، او د قدوس الله تعالی تدبیر او انتظام هسک او ټیټې بېشماره درجې لري.

تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ اِلَيْهِ

چې خیژي ملائکې پرښتې او روح (جبریل) په طرف د هغه.

تفسیر: یعني پرښتې، جبریل علیه السلام وغیره الله تعالی طرف ته خیژي، او یا پرښتې او د نورو بندګانو ارواح الله تعالی ته خیژي.

فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ ۚ

په هغه ورځ کې چې ده اندازه د هغې پنځوس زره کاله (په نسبت سره کافرانو ته).

تفسیر: د قیامت ورځ د پنځوسو زرو کلونو په مېچ ده، یعنې له اولې شپېلی (صور) څخه تر هغه پورې چې جنّتیان په جنّت کې او دوزخیان په دوزخ کې ننوځي؛ پنځوس زره کاله تیریږي.

فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيلًا ﴿٥﴾

نو صبر وکړه (ای محمده !) صبر جمیل نېک (بې له شکوه ـ شکایت ـ جزع ـ فزع).

تفسیر: یعنې که دا کافران د انکار او تمسخر له لارې شورماشور کوي چې ژر هغه ټاکلی عذاب راورسیږي، بیا هم تاسې تلوار مه کړئ !، بلکه په صبر او استقلال سره اوسئ !، مه مو زړه تنګوئ !، او نه د شکایت الفاظ ښایي د تاسې له خولې څخه ووځي !، دا ستاسې صبر او د دوی تمسخر او ملنډې وهل به ضرور خپله اغېزه او اثر ښکاره کوي.

إِنَّهُمْ يَرَوْنَهُ بَعِيدًا ﴿٦﴾ وَنَرَاهُ قَرِيبًا ﴿٧﴾

بېشکه دغه (منکران) وینې هغه (عذاب یا قیامت) لرې. او مونږ وینو هغه (عذاب یا قیامت) نژدې.

تفسیر: یعنې د دوی په خیال کې د قیامت راتګ لرې ورځي، بلکه د دوی په زعم وقوع یې هم ممکن نه دی، او په عقل کې یې له سره نه ځایېږي، او مونږ یې ډېر نژدې ګڼو، او هسې بولئ چې اوس راځي.

يَوْمَ تَكُونُ السَّمَاءُ كَالْمُهْلِ ﴿٨﴾ وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ ﴿٩﴾

هغه ورځ (به واقع شي پر منکرانو عذاب) چې وګرځي اسمان په شان د قلعي ژېړ ویلي شوی یا (تورې ختې د تېلو). او وبه ګرځي غرونه په شان د وړې نداف وهلې رنګارنګ.

تفسیر: وړې مختلف او راز راز رنګونه لري، او د دغو غرونو رنګونه هم سره مختلف او راز راز دي، لکه چې الله تعالی د «فاطر» سورت په څلورمه رکوع (۲۷) آیت کې فرمایي: ﴿وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ﴾ او د «القارعه» په سورت کې یې فرمایلي دي: ﴿كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ﴾ «یعنې غرونه لکه رنګینې وهلی شوې وړې غوندې به وي»، دا خوا او هغه خوا به رغړي رارغړي.

وَلَا يَسْأَلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا ﴿١٠﴾ يُبَصَّرُونَهُمْ

او نه کوي پوښتنه یو دوست له بل دوسته (ځکه چې مشغول به وي په ځان خپل، اګر که په نظر ورځي دوی ته هغوی). او ښه به یې پېژني.

تفسیر: شاه صاحب لیکي: «یعنې ګرد به سره په نظر راځي، او دا به وربنکاریږي چې د دوی دوستي چتې او بېکاره وه»، هر یو به د بل حال او احوال ګوري، مګر یو له بل سره څه مرسته او حمایت نشي کولی، او هر یو به پخپل فکر کې ډوب تللی وي.

يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ ﴿١١﴾ وَصَاحِبَتِهِ وَأَخِيهِ ﴿١٢﴾ وَفَصِيلَتِهِ
الَّتِي تُؤْوِيهِ ﴿١٣﴾ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنْجِيهِ ﴿١٤﴾

خوښوي به مجرم ګنهګار (کافر) چې فدیه ورکړي له عذابه د دغې ورځې په ځامنو خپلو سره. او ملګرې ښځې خپلې سره، او ورور سره. او خپلوانو قبیلو خپلو سره هغو سره

چې ځايونه يې ورکول دوی ته په دنيا کې. او هغه څوک چې په ځمکه کې دي ټول، بيا وژغوري ځان خپل.

تفسير: يعنې غواړي چې ګرد کور او کهول او خپل که يې له لاسه پوره وي او په درد يې وخوري له خپل ځانه قربان کړي، او پخپله فديه کې يې ورکړي، او خپل ځان وژغوري، مګر دا به امکان ونه لري، او خلاص به نشي له عذابه ځکه چې:

كَلَّآ إِنَّهَا لَظَىٰ ﴿١٥﴾ نَزَّاعَةً لِّلشَّوَىٰ ﴿١٦﴾

نه ده داسې چې ارزو کوي دوی. بېشکه دا (اور د دوزخ) لمبې وهونکی دی. ويستونکی دی (له کفّارو څخه) د اينې (يا د پوستکو د لاسو او د پښو د دوی).

تفسير: يعنې هغه اور به مجرم کله پرېږدي، هغه به يې پوستکی وباسي، او تر اينې (جګر) پورې يې رسېږي، او اينه يې هم ترې وباسي.

تَدْعُوا۟ مَنْ أَدْبَرَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٧﴾ وَجَمَعَ فَأَوْعَىٰٓ ﴿١٨﴾

رابولي (دا دوزخ) هغه څوک چې شا يې کړې وي او مخ يې ګرځولی وي (له ايمانه). او ټول کړی يې وي (مال) نو ساتلی يې وي (د الله حق يې ترې نه وي ورکړی).

تفسير: يعنې د دوزخ له لوري به يو راښکودل او نارې او سورې وي، هومره سړي چې په دنيا کې د حق او رښتيا په لوري شاه اړولې او د ښو چارو ځنې يې مخ ګرځولی وي، او د مالونو او شتو په ټولولو او کلکو ساتلو کې مشغول؛ هغه ګرد به د دوزخ په لوري راښکودل کېږي.

إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴿١٩﴾ إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعًا ﴿٢٠﴾ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلْخَيْرُ مَنُوعًا ﴿٢١﴾

بېشکه انسان بنې آدم پيدا کړی شوی دی هلوع حارص بې صبره. کله چې ورسېږي ده ته شر خرابي؛ صبر نه کوي فرياد کوي. او کله چې ورسېږي ده ته ښېګنې؛ نو بې توفيق کېږي منع کوونکی شي (حق لره).

تفسير: يعنې په هيڅ لوري پخپلې بهادری، کلکتوب، پوخوالي، قوت او همّت نه ورښکاروي، که فقر، فاقه، ناروغي او سختي پرې راشي؛ نو بې صبري ورښکاروي، ويريږي او نااميده کېږي، او هسې ګڼي چې اوس د هغه لپاره هيڅ يوه لاره نه ده پاتې، چې په هغې کې له هغه ربړ او مصيبت نه ځان وژغوري، که مال، شته، دولت، روغتيا، عظمت او پت ور په برخه شي؛ نو د ښېګنې لپاره به هيڅ خپل لاس نه غځوي، او د الله تعالى په لاره کې هيڅ يو شی په اخلاص او مينې سره نه لګوي، هو ! هغه سړی له دې وينا ځنې مستثنی دی، چې د هغوی بيان دغه دی چې اوس راځي.

إِلَّا ٱلْمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَآئِمُونَ ﴿٢٣﴾

مګر (نه دي پيدا کړی شوي هلوع هغه) لمونځ کوونکي چې دوی پر لمانځه خپل دائم قائم دي. او هيڅکله او هيڅېرې هيڅ يو لمونځ ترې نه فوت کېږي.

تفسير: يعنې د لمانځه ناغه کوونکي نه دي، بلکه په مداومت او انتظام او التزام سره يې کوي، او د لمانځه په حالت کې په ډېر سکون او اطمينان سره سم برابر لمونځ کوي، او تل لمانځه ته متوجّه وي.

وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ ﴿٢٤﴾ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ﴿٢٥﴾

او هغه کسان (هم هلوع نه دي) چې په اموالو د هغوی کې حق برخه معلومه وي (له زکات او صدقات). لپاره د غوښتونکيو (فقيرانو) او محروم (فقيرانو چې سوال نه کوي).

تفسير: د «المؤمنون» په سورت کې د دې تفسير شوی دی.

وَالَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوْمِ الدِّينِ ﴿٢٦﴾

او هغه کسان (هم هلوع نه دي) چې مصدق باور کوونکي دي په ورځ د انصاف جزاء باندې.

تفسير: يعنې د همدې يقين په بناء باندې ښه کارونه کوي، چې په هغه ورځ به يې په کار ورځي.

وَالَّذِينَ هُم مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ ﴿٢٧﴾

او هغه کسان (هم هلوع نه دي) چې دوی له عذابه د رب خپل وېرېدونکي وي (اګر که په عبادت کې يې ډېر کوښښ هم کړی وي).

تفسير: يعنې د الله تعالى له عذابه ويريږي، او په خرابو کارونو پسې هيڅ نه ګرځي، ځکه چې:

إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُونٍ ﴿٢٨﴾

بېشکه له عذابه د رب؛ دوی نه دي پر امن کړی شوي (بلکه تل ترې ويريږي).

تفسير: يعنې د الله تعالى عذاب داسې يو شی نه دی چې بنده د هغه له لوري ځنې مأمون شي، او بې وېرې کيني. بالخاصه منکران او مجرمان خو له سره ترې په امان نه دي.

وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ ﴿٢٩﴾ إِلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ﴿٣٠﴾ فَمَنِ ابْتَغَىٰ وَرَاءَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ ﴿٣١﴾

او هغه کسان (هم هلوع نه دي) چې دوی د خپل شهوت د ځايونو ساتونکي دي. مګر په ښځو خپلو باندې او په هغې وينځې خپلې باندې چې يې مالکان شوي دي ښې لاسونه د دوی، نو بېشکه دوی نه دي ملامت کړی شوي (ځکه چې خپلې ښځې ـ وينځې پرې حلالې دي). نو هغه چې غواړي پرته له دغو ځخه؛ پس همدوی دي له حده تېرېدونکي.

تفسير: يعنې که څوک پرته له خپلې حلالې ښځې يا وينځې ځنې بل کوم ځای د شهوت د قضاء لپاره ولټوي؛ نو هغه د اعتدال د حد او جواز ځخه د باندې قدم وړدي، نو متعه موقته، بهيمه او استمناء (په لاس سره منی ايستل) او نور ناروا دي.

وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ ﴿٣٢﴾

او هغه کسان (هم هلوع نه دي) چې دوی امانتونو خپلو لره او وعدو خپلو لره ساتونکي دي (او په سر يې رسوي).

تفسير: په دې کې د الله تعالى او د بندګانو د ګردو حقوق راغلل، ځکه د سړي هومره قوّتونه چې شته هغه ګرد د الله تعالى امانت دی، نو ښايي هغه د الله تعالى په رابنوولو مواقعو کې صرف کړی شي، او هغه قول او اقرار چې په ازل کې يې ترلی دی؛ له هغه ځنې خپله غاړه ونه غړوي !.

وَالَّذِينَ هُم بِشَهَٰدَٰتِهِمْ قَآئِمُونَ ﴿٣٣﴾

او هغه کسان (هم هلوع نه دي) چې همدوی په شاهدۍ خپلې باندې سم ولاړ وي.

تفسير: يعنې که ضرورت پېښ شي؛ نو بې له زيادت او لږوالي او لحاظ او رعايت شاهدي ورکوي، او حقه خبره هيڅکله نه پټوي.

وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴿٣٤﴾

او هغه کسان (هم هلوع نه دي) چې همدوی پر لمانځه خپل باندې ساتنه کوي (پخپلو وختونو يې اداء کړي).

تفسير: يعنې د لمونځونو د اوقاتو، شرائطو، او آدابو ځنې باخبر وي، او د هغه صورت او حقيقت د ضايع کېدلو ځنې تل خپل ځان ساتي.

أُولَٰٓئِكَ فِي جَنَّٰتٍ مُّكْرَمُونَ ﴿٣٥﴾

دغه کسان به (چې موصوف په دغو اتو صفاتو دي) په جنّتونو کې به وي مکرّم عزّتمن کړی شوي.

تفسير: يعنې د جنتيانو همدا اته صفتونه دي، چې په لمانځه سره او په لمانځه باندې ختم شوي دي تر څو معلوم شي چې لمونځ د الله تعالى په دربار کې څومره مهتمّ بالشأن او الزم او ضروري عبادت دی، د هر يوه مسلمان په وجود کې چې دا صفات او ستاينې وي؛ نو په هغه کې به د «هلوع» مذمّت نه وي.

فَمَالِ الَّذِينَ كَفَرُوا قِبَلَكَ مُهْطِعِينَ ﴿٣٦﴾ عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ عِزِينَ ﴿٣٧﴾ أَيَطْمَعُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ أَن يُدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٍ ﴿٣٨﴾ كَلَّا

نو څه شوي دي هغو کسانو لره چې کافران شوي دي چې طرف ستا نه راځغاستونکي دي. له ښي لوري څخه او له کين لوري څخه ناست ډلې ډلې (حلقه) وهونکي. آيا طمع کوي هر سړی له دوی ځنې چې داخل به کړی شي په جنّت د نعمتونو کې؟. نه ده داسې (چې دوی طمع کوي د دخول د جنّت).

تفسير: ابن کثير (رحمه الله) د دې آيتونو مطلب داسې اخيستی دی: يعنې ستاسې په لوري دا منکرين ولې په ډېره جلدۍ او تلوار سره درځغلي او منډې وهي، او ښي اوکينې خوا ته ډلې ډلې پنډېږي، يعنې د پاک قرآن له اورېدلو ځنې ولې دومره تور خوري او بد وړي او تښتي؟ نو آيا سره له دې وحشت او نفرت دوی داسې توقّع او هيله هم لري چې له دوی څخه به هر يو سړی بې له اندېښنې جنت ته ننوځي؟ هر ګز داسې نه ده، (هذا کما قال الله تعالى: ﴿فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ﴾ د «المدثر سورت» دويمه رکوع).

إِنَّا خَلَقْنَٰهُم مِّمَّا يَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾

بېشکه مونږ پيدا کړي مو دي دوی له هغې (نُطفې) څخه چې پرې پوهيږي دوی (چې ضعيفه او حقيره ده).

تفسير: يعنې د خاورې غوندې يو حقير شي يا له مني غوندې شي ځنې پيدا شوي، هغه چېرې د جنت وړ وي تر څو چې په ايمان او وحدانيت سره خپل ځان پاک نه کړي، او په رښتيا سره معظم او مکرّم نه شي.

فَلَآ أُقْسِمُ بِرَبِّ ٱلْمَشَٰرِقِ وَٱلْمَغَٰرِبِ

نو قسم خورم په رب (مالک) د مشرقونو او (په رب مالک د) مغربونو.

تفسير: لمر، سپوږمۍ او نور ستوري هره ورځ له يوه نوي ځايه راڅرګندېږي، او په يو نوي ځای راپټيږي، نو د دې نقطو په اعتبار يې مشارق او مغارب ورته وويل.

إِنَّا لَقَٰدِرُونَ ﴿٤٠﴾ عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ﴿٤١﴾

بېشکه مونږ خامخا قادر يو. په دې باندې چې بدل راوړو خير ډېر غوره له دوی څخه، او نه يو مونږ عاجزی کړی شوي (له ارادې خپلې).

تفسير: يعنې کله چې د هغوی په ځای له هغوی ځنې ښه سړي راوستلی شو؛ نو پخپله دوی ولې نشو ژوندي کولی؟ يا دا مطلب: پرېږدئ چې دا د مکې کافران خندا او مسخرې وکړي، او ملنډې ووهي، مونږ به د اسلام د خدمت لپاره له دوی ځنې غوره قوم راولو، لکه چې د قريشو په ځای يې د مدينې انصار ودرول، او مکه والان بيا د هغوی د واک ځنې بهر ونه وتی شو، او په پای کې يې د خپلو شرارتونو خوند وڅکو.

تنبيه: د «مشارق» او «مغارب» قسم ښايي د دې لپاره ياد کړی وي، چې هغه الله تعالی چې هره ورځ مشرق او مغرب بدلوي؛ نو آيا هغه ته ستاسې بدلول کوم سخت او مشکل کار دی؟.

فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا۟ وَيَلْعَبُوا۟ حَتَّىٰ يُلَٰقُوا۟ يَوْمَهُمُ ٱلَّذِى يُوعَدُونَ ﴿٤٢﴾

نو پرېږده دوی (ای محمده !) چې ننوځي مشغوليږي په باطلو کې او لوبې کوي په دنيا کې تر هغه پورې چې پيوست شي دوی له هغې ورځې خپلې سره چې وعده يې کړی شوې ده له دوی سره (چې بدر يا قيامت دی).

تفسير: يعنې د لږو ورځو ځنډ دی، بيا به د هغوی سزا يقيني وي.

يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ ٱلْأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ إِلَىٰ نُصُبٍ يُوفِضُونَ ﴿٤٣﴾

هغه ورځ چې بهر راويستل شي دوی له قبرونو څخه چې ځغلېدونکي به وي لکه چې دوی په طرف د نښو چابک ځغلي.

تفسير: يعنې څرنګه چې څوک د کومې خاصې نښې او علامې په لوري په منډو سره ځغلي، او يو له بله غواړي چې ژر ورسېږي.

خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ذٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿٤٤﴾

حال دا چې ذليلې خوارې به وي سترګې د دوی چې پټ کړی به وي دوی لره ذلت خواری، دا ورځ ده (هغه د قيامت) چې وو دوی چې وعده ورسره کړی شوې وه (په دنيا کې).

تمّت سورة المعارج بفضل الله ومنّه وكرمه.

سُورَةُ نُوحٍ

«د (نوح) سورت مکّي دی، (۲۸) آیتونه (۲) رکوع لري، په تلاوت کې (۷۱) او په نزول کې هم (۷۱) سورت دی، وروسته د (النحل) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

إِنَّآ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ أَنْ أَنذِرْ قَوْمَكَ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ①

ښېشکه مونږ لېږلی وو مونږ نوح طرف د قوم د ده ته په دې سره چې وویروه ته قوم خپل پخوا له هغه ځنې چې راشي دوی ته عذاب دردناک.

تفسیر: یعنې پخوا له دې چې په دنیا کې د خپل کفر او شرارت لامله له یو لوی طوفان سره مقابل او په آخرت کې د دوزخ له عذاب سره مخامخ شي، ښایي چې مؤمنان شي.

قَالَ يٰقَوْمِ إِنِّى لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ② أَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ ③

وویل (نوح) ای قومه ځما ! ښېشکه زه تاسې ته ویروونکی ښکاره یم (په دې سره چې وایم تاسې ته) چې بندګي کوئ تاسې الله ته، او وویرېږئ له الله ځنې، او ومنئ تاسې ځما خبرې !.

تفسیر: یعنې له الله تعالی ځخه وویرېږئ !، او کفر او معصیت پرېږدئ !، او د اطاعت او عبادت لارې خپلو ځانونو ته غوره کړئ !.

يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ

چې وښښي (الله) تاسې ته ګناهونه ستاسې، او وروستي به کړي (الله) تاسې (بې له عذابه) تر نېټې په نامه کړی شوې پورې (چې نېټه د موت ده).

تفسیر: یعنې که ایمان مو راوړو؛ نو پخوا له ایمانه هغه حقونه چې تاسو تلف کړي دي هغه به دروښلی شي، او د کفر او شرارت لامله د کوم عذاب راتلل چې مقدّر وو؛ هغه به د ایمان راوړلو ځنې وروسته نه راځي، بلکه تاسې ته مهلت درکاوه شي چې خپل طبیعي عمر سر ته ورسوئ، او د نورو ساکښانو (جاندارو) د موت او د حیات له عمومي قانون سره سم په مقرر شوي وخت کې پر تاسې باندې مړګ راځي.

إِنَّ أَجَلَ اللّٰهِ إِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُ ۖ

ښېشکه چې اجل نېټه د الله کله چې راشي؛ نه وروستی کیږي.

تفسیر: یعنې د ایمان د نه راوړلو په صورت کې د هغه عذاب وعده چې شوې ده، که هغه پر سر باندې ودریږي؛ نو ځوک یې مخه نشي نیولی، او نه د یوې شېبې وړاندې وروسته کیږي.

لَوْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ۝۴

که چېرې يئ تاسې چې پوهېږئ.

تفسير: يعنې که تاسې پوهه لرئ؛ نو دا ګردې خبرې د پوهېدلو او د عمل کولو وړ دي.

قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا ۝۵ فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَائِي إِلَّا فِرَارًا ۝۶

وويل (نوح) ای ربه ځما ! بېشکه ما ومې باله قوم خپل (توحيد ته) شپه او ورځ (تل). نو زيات نه کړ دوی ته دعوت بلنې ځما مګر تېښته (له ايمان او اطاعت ځخه).

تفسير: يعنې نوح عليه السلام تر نهه نيم سوو کلونو پورې دوی وپوهول، کله چې د امید هيڅ يوه هيله ورته پاتې نشوه؛ نو مأيوس او خفه شو، د الله تعالی په دربار کې يې عرض وکړ چې ای الله ! ما له خپل لوري د دعوت او تبليغ حق اداء کړ، او يوه شېبه مې هم څه معطلي او ډيل نه دی کړی، د ورځې په رڼا او د شپو په تيارو کې مې تل تر تله ستا په لوري بلنه کړې ده، مګر نتيجه داسې شوه چې هر څو هر څومره مې چې دوی ستا په لوري وبلل؛ دوی هومره له تا ځخه لرې شول.

وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوا أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ

او بېشکه زه هر کله چې وبولم دوی (توحيد او اطاعت ته) د دې لپاره چې وبښې ته دوی؛ نو ننباسي دوی ګوتې خپلې په غوږونو خپلو کې (چې ځما دعوت وا نه وري).

تفسير: ځکه چې هغوی ځما د خبرو اورېدل نه غواړي، او دايې پر ځان اخيستې ده چې دا غږ خامخا د هغوی غوږونو ته ونه رسيږي.

وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ

او چاپېر کړي نغښتلي يې وو ځانونه خپل په جامو خپلو (لپاره د دې چې ما ونه وينې).

تفسير: تر څو هغوی ځما او زه د هغوی صورت ونه ګورم، که کوم وخت په ګوتو سره هغوی غوږونه په ښه ډول بند نشي.

وَأَصَرُّوا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا ۝۷

او همېشه والی کوي (په کُفر خپل) او سرکشي کوي (له متابعته ځما) سرکشي کول.

تفسير: يعنې په هيڅ ډول هغوی له خپلې طريقې ځخه مخ اړوونکي نه دي، او د هغوی غرور دوی ته اجازه نه ورکوي چې ځما د اسلامي دعوت خبرو ته غوږ کيږدي.

ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ۝۸

بيا بېشکه ما وبلل دوی په ښکاره (بلنې سره).

تفسير: يعنې د هغوی په مرکو او جرګو کې مې ويناوې وکړې، او په مجلسونو کې مې هم دوی په ښه شان سره وپوهول.

ثُمَّ إِنِّي أَعْلَنتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا ﴿٩﴾

بيا ببشكه ما ښكاره وينا وكړه دوى ته، او په پټه مې وينا وكړه دوى ته.

تفسير: يعنې پرته له جرګو او مجامعو څخه مې هم ګوښې له هغوى سره خبرې وكړې، او صافې مې هم هغوى ته وويلې، او په اشارو او كنايو مې هم وپوهول، په لوړ غږ مې هم وينا وكړه، او په ورو مې هم وويل، لنډه يې دا چې د پند هيڅ يو عنوان او هيڅ يو رنګ مې هم پرې ننبود.

فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ﴿١٠﴾

نو ومې ويل دوى ته: ښښنه وغواړئ له ربه خپله (له شركه)، ببشكه هغه (الله) دى ډېر ښښونكى (توبه كوونكيو لره هر كله چې توبه وباسي).

تفسير: يعنې سره له سلهاوو كلونو له پوهولو څخه چې په تاسې باندې يې څه اثر ونه كړ، كه اوس ځما دا خبرې ومنئ، او د خپل حقيقي مالك په لوري مو سرونه ټيټ كړئ، او له هغه ځنې د خپلو تېروتنو او خطاوو ښښنه وغواړئ، نو ستاسې هغه پخواني ګناهونه او قصور ښښل كيږي، ځكه چې الله تعالى لوى ښښونكى دى، او ستاسې هغه ګرد پخواني ګناهونه به درمعافوي.

يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ﴿١١﴾ وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَارًا ﴿١٢﴾

راو به ليږي باران پر تاسې باندې ډېر اورښدونكى. او در ډېروي، كومك به كوي له تاسې سره په مالونو او ځامنو سره، او وبه ګرځوي تاسې ته باغونه او وبه ګرځوي تاسې ته ويالې.

تفسير: يعنې د ايمان او استغفار په بركت به هغه قحط او سوكړه چې له څو كلونو راهيسې په هغه كې اخته يئ لرې كيږي، او الله تعالى ډېرې ښې ورښدونكې ورښځې درليږي، چې د هغه د ورښدو لامله به مو كښتونه او باغونه اوبه كيږي، مېوې او غلې ډېريږي، څاروي او نور ساكښان به څرښيږي، شودې او غوړي به ډېريږي، او هغه ښځې چې د كفر او معصيت له سببه اوس شنډې شوي دي؛ هلكان به وځښوي، لنډه يې دا چې د دنيا د عيش او نشاط سره د آخرت لويې درجې هم مومئ.

مَا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا ﴿١٣﴾

څه شوي دي په تاسې باندې چې اميد هيله نه لرئ له الله څخه د عظمت او لويي، او يا له الله څخه د وقار لويي عزّت.

تفسير: يعنې د الله تعالى له لويى ځنى ښايى اميد وكړى شى كه تاسى د هغه امر ومنئ نو تاسو ته به لويى عزت او وقار دروښښى او يا دا مطلب چې تاسې د الله تعالى په لويي باندې ولې اعتقاد نه لرئ؟ او د هغه د عظمت او جلال ځنې ولې نه ويرېږئ؟.

وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا ﴿١٤﴾

او (حال دا دى چې) په تحقيق پيدا كړي يې يئ تاسې تېرښدونكي په مختلفو حالاتو، او يا راز راز.

تفسیر: یعنې د مور په ګډه کې مو ډول ډول رنګونه بدل کړل، او د اصلي مادې څخه اخیستی تر مړینې پورې سړی په راز راز بڼو (صورتونو) او رنګارنګ اشکالو اوړي رااوړي، او له ډېرو اطوارو ادوارو سره مخامخ کیږي.

أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللَّهُ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ﴿١٥﴾ وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا ﴿١٦﴾

آیا نه ګورئ تاسې څرنګه پیدا کړي دي الله اووه اسمانونه لاندې باندې، او ګرځولې یې ده سپوږمۍ په دې اسمانونو کې رڼا روښانه، او ګرځولی یې دی لمر ډیوه بله روښانه.

وَاللَّهُ أَنْبَتَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ نَبَاتًا ﴿١٧﴾

او الله زرغون پیدا کړي یئ تاسې له ځمکې څنې زرغونېده پیدا کېده.

تفسیر: یعنې له ځمکې څخه یې په ډېر پوخوالي سره پیدا کړ، اول یې ځمونږ پلار آدم علیه السلام له خاورې څخه پیدا کړ، بیا یې نطفه چې له هغه څخه وروکي پیدا کیږي، او د غذاءاو د خوړو خلاصه او جوهر دی، او د ځمکې له عناصرو څنې پیدا کیږي.

ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا ﴿١٨﴾

بیا به ننباسي تاسې (پس له مرګه) په هغې (ځمکې) کې، بیا به راوباسي تاسې (له قبورو څخه عند البعث) رایستل.

تفسیر: یعنې وروسته له مړینې څخه بیا له خاورې سره ګډ ږئ، بیا د قیامت په ورځ له هغه څنې راخپژئ.

وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ بِسَاطًا ﴿١٩﴾ لِتَسْلُكُوا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا ﴿٢٠﴾

او الله ګرځولې ده تاسې ته ځمکه غوړولی فرش. تر څو چې لاړ شئ تاسې له دغې (ځمکې) نه پر لارو لویو ارتو باندې.

تفسیر: یعنې پر هغه باندې کښئ، ګرځئ، لاندې باندې ورشئ، او اوده شئ، په هر لوري یې ارتې لارې درایستلي دي، که یو سړی وغواړي او لازم وسایل ورسره وي؛ نو په ټوله ځمکه باندې چورلېدلی شي، او د لارې د نشتوالي لامله به هیڅ یو مشکلات نه ورپېښیږي.

قَالَ نُوحٌ رَبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَاتَّبَعُوا مَنْ لَمْ يَزِدْهُ مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا ﴿٢١﴾

وویل نوح: ای ربه ځما ! بېشکه دوی نافرماني وکړه له ما څخه، او متابعت یې وکړ د هغه چا چې نه یې دی زیات کړی ده ته مال د ده، او اولاد ده (په هیڅ بابت کې) پرته له زیانکاری ګمراهی.

تفسیر: یعنې د خپلو مشرانو خبرې یې واورېدې، چې د هغوی په مال او اولاد کې هیڅ یو ښه والی او بهترې نشته، بلکه دوی پر هغوی باندې ورغونه شول، او د همدې لامله هم مشران له دین څنې بې برخې شول، او هم یې د ډېر تمرّد او تجبّر په سبب کشران محروم کړل.

وَمَكَرُوا مَكْرًا كُبَّارًا ﴿٢٢﴾

او مکر وکړ دغو (رؤساوو د دوی) مکر ډېر لوی.

تفسیر: یعنې ګرد یې وپوهول چې د هغه خبره ونه منې، او راز راز تکلیفونه ور ورسوي.

وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ

او وویل (مشرانو کشرانو ته) چې مه پرېږدئ تاسې (عبادت د) معبودانو خپلو.

تفسیر: یعنې د خپلو معبودانو په عبادت او حمایت باندې ټینګ اوسئ !، او د نوح په لمسون باندې مه غولېږئ !.

وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ﴿٢٣﴾

او مه پرېږدئ (عبادت د هغه بُت چې) وَدّ (نومېږي) او مه (پرېږدئ عبادت د هغه بت چې) سُواع (نومېږي) او مه (پرېږدئ تاسې عبادت د هغو بُتانو چې) یغُوث او یعُوق او نسر (نومېږي).

تفسیر: دا د هغو بتانو نومونه دي چې د هر مطلب لپاره یې یو بېل بُت جوړ کړی وو، په ځینو روایتونو کې راغلي دي چې په پخوانیو زمانو کې ځینې لویان هسې تېر شوي وو، چې خلقو له هغوی سره ډېره مینه درلوده (لرله)، کله چې هغوی مړه شول؛ نو د شیطان په لمسولو او غولولو خلقو د هغوی تصویرونه د یادولو په ډول ودرول، بیا یې د هغوی په تعظیم باندې شروع وکړه، ورو ورو یې د هغوی په بندګۍ باندې شروع وکړه (العیاذ بالله).

وَقَدْ أَضَلُّوا كَثِيرًا ۖ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا ضَلَالًا ﴿٢٤﴾

او په تحقیق ګمراه کړي دي (دغو مشرانو په سبب د عبادت د بُتانو) ډېر (کشران خلق)، او مه زیاتوه (ای ربه ځما !) ظالمانو بې انصافانو لره مګر خو ګمراهي هلاک عذاب.

تفسیر: شاه عبد القادر (رحمه الله) لیکي: «یعنې سرکردانه ګرځي، یو سم تدبیر د دوی له لاسو نه دی پوره».

مِمَّا خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا

په سبب د ګناهونو خپلو سره ډوب کړل شول (په دنیا کې په ډېرو دریابې اوبو کې) نو داخل به کړل شي (أخروي) اور ته.

تفسیر: یعنې طوفان راغی، او په ښکاره ډول د لوی بحر په اوبو کې ډوب شول، خو په رښتیا سره د برزخ عذابونو ته ورسېدل، چې ورپسې متّصل د آخرت اور هم هغوی ته تیار دی.

فَلَمْ يَجِدُوا لَهُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْصَارًا ﴿٢٥﴾

بیا نه موندل دوی د خپلو ځانونو لپاره پرته له الله مددګاران (چې له عذاب څخه یې خلاص کړي).

تفسیر: یعنې هغه بُتان: ود، سواع، یغوث او نور د دوی د دې اړتوب په وخت کې هیڅ په کار ورنغلل، او نه یې مرسته له هغوی سره وکړه.

وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴿٢٦﴾ إِنَّكَ إِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿٢٧﴾

او وويل نوح: ای ربه ځما ! مه پرېږده پر ځمکه باندې له کافرانو څخه هیڅ اوسېدونکی (یا ګرځېدونکی، او ټول هلاک کړه). بېشکه ته که چېرې پرېږدې ته دوی؛ نو ګمراهان به کړي دوی (مؤمنان) بندګان ستا، او نه ځېږوي دوی مګر خو فاجر بېباکه ناشکره بدکاره له حقه منکره.

تفسیر: یعنې یو کافر هم ژوندی مه پرېږده ! ځکه چې له دوی ځنې هیڅ یو کافر د دې خبرې لایق او وړ نه دی چې ژوندی پرېښود شي، که له دوی ځنې کوم یو ژوندی پاتې شي؛ نو ځما تجربه دا رابنیي چې د هغه له نطفې څخه به هم بې حیا بېباک د حق منکر او بې شرم او ناشکره ځوځات پیدا کیږي، او تر هغه پورې چې له دوی ځنې یو سړی هم پاتې وي؛ نور خلق نه پرېږدي چې په سمه لاره راشي، او ګرد به سره ګمراهان کړي.

رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

ای ربه ځما ! وبښه ما او مور پلار ځما، او هغه څوک چې ننوځي کور ببرې مسجد ځما ته حال دا چې ایمان لرونکي وي، او (وبښه) ګرد ایمان لرونکي نارینه او ګردې ایمان لرونکې ښځې.

تفسیر: یعنې که سم ځما د مرتبې سره له ما نه کوم تقصیر شوی وي؛ هغه پخپل فضل او کرم سره راوبښه !، او ځما د مور او پلار او هغه ایمانداران چې ځما په کور یا ببرې یا مسجد کې دي؛ د هغوی ګردې خطاوې ورمعاف کړه !، بلکه تر قیامت پورې هر څومره نارینه او ښځې چې د ایمان په شرف رسېدلي وي؛ هغو ګرد (ټول) وبښه !.

وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِينَ إِلَّا تَبَارًا ﴿٢٨﴾

او مه زیاتوه (ای ځما پروردګاره) ظالمانو (کافرانو) لره مګر خو بربادي هلاک (لکه چې هغوی هلاک شول).

تمّت سورة نوح بفضل الله وکرمه، فلله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الجِنِّ

«د (الجنّ) سورت مکي دی، (۲۸) آیته (۲) رکوع لري، په تلاوت کې (۷۲) او په نزول کې (۴۰) سورت دی، وروسته د (الأعراف) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ

ووایه (ای محمده دوی ته) وحي راغلې ماته چې ښکه شان دا دی چې واورېده (قراءت ځما) یوه ټولي له پیریانو نه.

فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا ۝١ يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ ۖ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا ۝٢

نو وویل (دوی نورو قومونو خپلو ته کله چې ښېرته ورغلل چې) ښکه مونږ وامو ورېد یو قرآن عجیب (په فصاحت او بلاغت سره). چې هدایت کوي لاره ښیي رشد (ایمان او حق) ته، نو ایمان راوړو مونږ پر هغه (قرآن)، او هرګز به شریک نه کړو (پس له دې ورځې) له رب خپل سره بل هیڅوک.

تفسیر: د «أحقاف»په سورت کې تېر شوي دي چې رسول أکرم صلی الله علیه وسلم د سهار په لمانځه کې قرآنکریم لوست، چې یوه ډله پیریان له هغه ځایه تېرېدل، کله چې د قرآن مجید غږ یې واورېد؛ ټول په هغه باندې مین او د زړه له کومي مسلمانان شول، بیا خپلو تېرو ته ښېرته لاړل، او دا ګردې خبرې یې هلته وویلې، چې مونږ داسې یو کلام واورېد چې پخپل فصاحت، بلاغت، حسن الأسلوب، قوت تأثیر، خوږوالي، موعظت، علومو او مضامینو او پندونو په اعتبار ډېر عجیب او غریب دی، د معرفت ربّاني او رشد دنیوي او فلاح أخروي په لورې لار ښیي، نو ځکه په مجرد د اورېدلو بلا توقّف پر هغه مو یقین وکړ، او هیڅ یو شک او شُبهه ځمونږ په زړونو کې پاتې نشوه، چې داسې خبرې پرته د الله تعالی د بل چا نه دي، اوس مونږ سم د هغه له تعلیم او هدایت سره عهد کوو چې وروسته له دې نه مونږ هیڅ یو شی د الله شریک نه ګڼو.

وَأَنَّهُ تَعَالَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَلَا وَلَدًا ۝٣

او ښکه شان دا دی چې لوی دی شأن لویي د رب ځمونږ، نه ده نیولې (الله) ښځه او نه اولاد (لکه چې وایي د پیریانو او د انسانانو کفّار او مشرکان).

تفسیر: یعنې ښځه او اولاد لرل د الله تعالی له شان او عظمت څخه منافي دي.

وَأَنَّهُ كَانَ يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى اللهِ شَطَطًا ۝٤

او (وویل پیریانو قوم خپل ته داسې) ښکه شان دا دی چې ویل به ناپوه ځمونږ (ابلیس) پر الله باندې خبرې لویې لرې له حق صواب.

تفسیر: یعنې ځمونږ په منځ کې هغه بېوقوفان چې د الله تعالی په نسبت داسې چتې خبرې له خپل ځانه جوړوي، او لویي یې کړې وي، د هغوی په منځ کې له ګردو څخه لوی ناپوه ابلیس دی، ښایي خاص همدغه شیطان د (سفیه) له لفظ څخه مراد وي.

وَّاَنَّا ظَنَنَّاۤ اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۝۵

او بېشکه مونږ ګمان کاوه چې هیڅکله به نه وایي انسانان او پیریان پر الله باندې دروغ.

تفسیر: یعنې ځمونږ په خیال کې داسې راتلل، چې دومره زیات انسانان او پیریان چې په دوی کې لوی سړي او پوهان هم شته؛ څرنګه سره یو ځای شوي د الله تعالی په نسبت دروغ خبرې جوړوي، او داسې جرأتونه کوي؟، په همدې ځُرت کې مونږ لاره غلطه کړه، اوس د پاک قرآن له اوریدلو څخه هغه ګردې غلطې خبرې او دروغ راښکاره شوي، او د خپلو مشرانو د تقلید څخه مو ځانونه وژغورل.

وَّاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ رَهَقًا ۝۶

او بېشکه شان دا دی چې وو به ډېر سړي له انسانانو څخه چې پناه به یې غوښتله په سړیو له پیریانو څخه، نو زیاته کړه دغو انسانانو دغو پیریانو لره سرکشي (په سبب د استعاذې پناه غوښتو د دوی له جنّاتو نه).

تفسیر: په عربو کې جهالت ډېر وو، له پیریانو ځنې به یې د پټو خبرو پوښتنې کولې، او د هغوی په نامه به یې نذرونه په غاړه اخیستل او ورکول به یې، کله به چې د کومې جوپې پرې او یا د تېرېدلو لاره پر کومې وېرووونکې کندې یا ځای باندې لوېده؛ ویل به یې چې: مونږ د دې ځای د پیریانو د هغه مشر په حلقه کې ننوځو، او ننګ وروړو چې د دې سیمې د پیریانو سردار دی، تر څو مو هغه د خپل لاس لاندې د پیریانو له شره وساتي، له داسې خبرې به پیریان لا مغرور ېدل، او په سر به یې ختل، او له بل لوري د داسې شرک لامله د انسانانو عصیان او طغیان لا پسې زیاتېده، کله چې دوی پخپله پر خپلو ځانونو باندې پیریان مسلطول؛ نو هغوی به هم د هغوی په اغواء کې هیڅ لږوالی نه کاوو، په پای کې پاک قرآن د دې ګردو خرابیو بېخ وویست.

وَّاَنَّهُمْ ظَنُّوْا كَمَا ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ اَحَدًا ۝۷

او بېشکه دوی ګمان کړی دی لکه چې ګمان کړی دی تاسې، چې هر ګز به پورته نه کړي الله هیڅوک (پس له مرګه له قبره).

تفسیر: مسلمانان پیریان دا ګردې خبرې له خپلو قومونو سره کوي، یعنې لکه چې تاسې خیال کوئ د ډېرو سړیو خیال همداسې دی، چې الله تعالی به مړي هیڅکله له هدیرو څخه نه پورته کوي، یا به وروسته له دې نه بل کوم پیغمبر نه مبعوثوي پرته له هغه پیغمبرانو چې پخوا له دې نه مبعوث شوي دي؛ اوس له قرآنه راښکاري چې الله تعالی یو عظیم الشأن رسول رالېږلی چې ګردو خلقو ته دا ور په یادوي، چې تاسې ټول له مړینې څخه وروسته بیا ژوندي کېږئ، او د ذرې ذرې حساب به ورکوئ.

وَّاَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيْدًا وَّشُهُبًا ۝۸ وَّاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ ؕ فَمَنْ يَّسْتَمِعِ الْاٰنَ يَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا ۝۹

ببشکه مونږ ورسېدو اسمان ته (لپاره د غوږ نیولو خبرو د ملائکو ته)؛ نو ومو موندو هغه (اسمان) ډک کړی شوی له څوکیدارانو سختو (چې ملائکې دي) او له ستوریو سوځوونکیو څخه. او ببشکه وو مونږ چې کښاستلو پخوا له لږلو د دې پیغمبر له دې آسمانه په ځایونو د کښاستلو کې لپاره د اورېدلو، نو هغه څوک چې اورېدل غواړي اوس؛ مومي به لپاره د ځان د اور لمبه منتظره (چې سوځوي یې).

تفسیر: یعنې مونږ الوتلې نژدې اسمان ته ورسېدو؛ نو هلته مو ولېدل چې ډېرې سختې جنګي پېرې درېدلې دي، چې هیڅ یو شیطان نه پریږدي چې غیبي خبرې واوري، او هر هغه څوک چې داسې اراده ولري؛ پر هغې باندې د اور لمبه او انګار وریږي، پخوا له دې نه دومره سختي او ساتنه او مخ نیونه نه وه، پیریان او شیطانان به اسمان ته نژدې په پټ ځای کې کښاستل، او د یوه لوري او بل لوري څخه به یې څه خبرې اورېدلې، مګر اوس دومره سختي او انتظام او لار نیونه شته، چې هر څوک د اورېدلو خیال وکړي؛ سمدلاسه پرې شهاب ثاقب ډک مردک اوري، او د هغوی تعاقب کیږي، دا بحث پخوا له دې نه د حجر په سورت او نورو ځایونو کې تېر شوی دی، هلته دې وکتل شي !.

وَّاَنَّا لَا نَدْرِیْٓ اَشَرٌّ اُرِیْدَ بِمَنْ فِی الْاَرْضِ اَمْ اَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴿۱۰﴾

او ببشکه مونږ نه پوهیږو (چې دغه منع کېدل ځمونږ له اسمانه) آیا شر بد دی چې اراده کړی شوې ده په هغه چا باندې چې په ځمکه کې دي؟ یا اراده کړې ده په دوی باندې رب د دوی د رُشد د لار ښوونې.

تفسیر: یعنې دا نوي انتظامات او د لارو تېنګونه الله تعالی ته ښه معلومه ده چې ولې شوي دي؟ آیا پر دوی د کوم شر اراده شوې، او که د الله تعالی له خوا د دوی په هکله د خیر او هدایت اراده شوې.

وَّاَنَّا مِنَّا الصّٰلِحُوْنَ وَمِنَّا دُوْنَ ذٰلِكَ ؕ كُنَّا طَرَآىِٕقَ قِدَدًا ﴿۱۱﴾

او ببشکه مونږ چې یو ځینې له مونږ څخه نېکان دي (پس له اورېدلو د قرآن) او ځینې له مونږ غیر له دوی دي، وو مونږ ناست پر لارو مختلفو (د ادیانو).

تفسیر: یعنې د قرآن مجید له نزول څخه پخوا هم ګرد پیریان په یوه لاره نه تله، ځینې یې ښه او ښایسته وو، او ډېر یې بدکار او بدرنګ وو، په هغوی کې هم فرقې او جماعتونه دي، ځینې مشرکان، ځینې عیسایان، ځینې یهودان او نور دي، او په عملي ډول باندې د هر یوه د عمل لارې بېلې او فکر، عقیده جلا ده، وروسته له هغه چې قرآنکریم راغی، د هغه ښوونه د اختلافاتو او تفرقو لرې کول دي، زیاتره پیریان مسلمانان شول، او ځینې همغسې پاتې دي، ځکه چې داسې خلق چېرې پیدا کیږي، چې ټول د حق په منلو کې لاسونه سره یوکړي، او په یوه سمه لاره باندې لاړ شي، نو هرومرو اوس هم د هغوی په منځ کې اختلاف او جګړه شته.

وَّاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ تُعْجِزَ اللّٰهَ فِی الْاَرْضِ وَلَنْ نُّعْجِزَهٗ هَرَبًا ﴿۱۲﴾

او ببشکه مونږ یقین مو کاوه چې له سره به مونږ عاجز نه کړو الله په ځمکه کې (چې تري پټ او خلاص شو) او له سره به مونږ نه کړو عاجز دغه (الله) په تېښتې سره (که تري وتښتو).

تفسیر: یعنې که مونږ قرآن ونه مانه د الله تعالی له سزا څخه نشو ځان ژغورلی، نه په ځمکه کې چېرې تري پټېدی شو، نه دې خوا نه هغې خوا تري تښتېدلی یا په هوا کې الوتلی شو.

وَّاَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا الْهُدٰٓى اٰمَنَّا بِهٖ ؕ

او بېشکه مونږ کله چې واورېد هدايت (د قرآن)؛ نو ايمان راوړ مونږ پر هغه.

تفسير: يعنې مونږ لره د فخر موقع ده، چې په پيريانو کې له ګردو څخه پخوا مونږ قرآن واورېد، او بې له ډيله مو ومانه، او په ايمان راوړلو کې مو يوه شېبه ځنډ ونه کړ.

فَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِرَبِّهٖ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَّلَا رَهَقًا ﴿١٣﴾

نو هغه چې ايمان راوړي په رب خپل باندې؛ نو نه ويريږي له نقصان (د خپلې نېکۍ) او نه له زيادت څخه (په تزييد د بدۍ).

تفسير: يعنې رښتين ايماندار لره د الله تعالى له لوري هيڅ يوه اندېښنه نشته، او نه نقصان وررسيږي، نه يې کومه نيکي او محنت خوشې ځي، او نه بل څوک پرې څه زيادت او زبردستي کولى شي، چې د بل جُرم او ګناه په هغه باندې وروارېوي، لنډه يې دا چې ايمانداران له هر نقصان، تکليف، ذلت او رُسوايي او نورو څخه مأمون او مصون دي.

وَّاَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُوْنَ وَمِنَّا الْقٰسِطُوْنَ ؕ فَمَنْ اَسْلَمَ فَاُولٰٓئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿١٤﴾ وَاَمَّا الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿١٥﴾

او بېشکه مونږ چې يو ځينې له مونږه مسلمانان دي، او ځينې له مونږ ظالمان کاږه دي (له لارې د حقه په کفر سره)، نو هر هغه چې (الله ته) غاړه کېږدي (او ايمان راوړي)؛ نو دوی قصد کړی دی د سمې صافې لارې. او هر چې کږېدونکي دي له سمې لارې؛ نو وي به دوی دوزخ لره لرګي د (سوځولو).

تفسير: يعنې د قرآن له نزول څخه وروسته په مونږ کې دوه ډوله خلق دي، يو هغه چې د الله تعالى پيغام اوري، او د هغه د احکامو په مقابل کې غاړه ږدي او مسلمانيږي، دوی همغوی دي چې د حق په تلاش کې بريالیان شوي دي، او د خپل تحقيق، تفحّص، او تعمّق په وسيله سمې لارې ته رسېدلي دي، بله هغه د بې انصافانو ډله ده چې کږه لاره يې خوښه کړې، او د بې انصافۍ له لوري د خپل پروردګار احکام دروغ بولي، او د هغه له حکم منلو څخه انحراف کوي، دا هغه کسان دي چې هغوی ته د دوزخ او د جهنّم خس وايه شي.

تنبيه: تر دې ځای پورې د مسلمانانو پيريانو د هغه کلام نقل وو، چې هغوی خپل قوم ته کړی وو، وروسته له دې الله تعالى د خپل لوري څخه د نصيحت څو خبرې ارشاد فرمايي:

وَّاَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا عَلَى الطَّرِيْقَةِ لَاَسْقَيْنٰهُمْ مَّآءً غَدَقًا ﴿١٦﴾ لِّنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ؕ

او (بله وحي راغلې ده ماته چې) که دا (خلق اهل د مکې) برابر شي پر طريقه (سمې لارې د اسلام)؛ نو هرومرو به وڅښوو دوی ته اوبه ډېرې (پس له قحطه) تر څو وازمويو مونږ دوی په دغه (نعمت) کې.

تفسير: يعنې که پيريان او انسانان په سمه لاره باندې تلل؛ نو مونږ به هم د ايمان او اطاعت په ظاهري او باطني خوږو او برکاتو سره دوی خړوبول، او په هغه کې به هغه هم د هغوی ازموينه مقصد وه، چې د دې نعمتونو څخه د منتفع کېدلو په وخت کې دوی ځمونږ شکر اداء کوي، او په طاعت کې ښه ترقي او زيادت ليدل کېږي؟ يا په کفران د نعمت کې اخته شوي هغه اصلي سرمايه او پانګه هم له لاسه وباسي؟.

وَمَنْ يُّعْرِضْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهٖ يَسْلُكْهُ عَذَابًا صَعَدًا ﴿١٧﴾

او هغه څوک چې مخ واړوي له ذکر (قرآن) د رب خپل؛ نو داخل به يې کړي (الله) عذاب سخت ته.

تفسير: يعنې که سړی د الله تعالی له ذکر او يادہ مخ واړوي؛ هغه ته به هيڅ ډاډينه او خوشالي نه په برخه کيږي، او تل به د هغه تګ په داسې يوه لاره باندې وي چې له پرېشانۍ او له ربړو څخه ډک وي، او عذاب يې ګړی په ګړی زيادت مومي.

وَّاَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا ﴿١٨﴾

او (بله وحي راغلې ده ماته) دا چې بېشکه مسجدونه لپاره (د ياد) د الله دي، نو مه بولئ تاسې (په دغو مساجدو کې) سره له الله بل هيڅوک.

تفسير: اګر که الله تعالی ګرده ځمکه د محمّدي امّت لپاره مسجد جوړه کړې ده، ليکن په خصوصيت سره هغه ځايونه چې د مسجدونو په نامه خاص د الله تعالی د عبادت لپاره جوړ شوي دي، هغه لره زيات امتياز دی، چې هلته تللئ پرته له الله تعالی د بل چا بلل لوی ظلم او ډېر بد شرک دی، مطلب دا چې د خالص واحد الله په لوري راځئ !، او له هغه سره بل څوک مه شريکوئ، او له هغه سره يې مه بولئ !، خصوصا په مسجدونو کې چې د الله تعالی په نامه او يواځې د هغه د عبادت لپاره جوړ شوي دي.

وَّاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ

او بله (وحي کړی شوې ده ماته) دا چې بېشکه کله چې ودرېد (لمانځ ته) بنده د الله (محمد).

تفسير: يعنې کامل بنده محمد صلی الله تعالی عليه وعلی آله وأصحابه وسلّم.

يَدْعُوْهُ كَادُوْا يَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴿١٩﴾

چې باله يې دغه (الله)؛ نژدې وو دغه (پيريان) چې کېدل به پر ده باندې سر په سر پرېوتونکي (له جهته د ازدحامه).

تفسير: يعنې کله چې محمد صلی الله عليه وسلم ودريږي، او پاک قرآن لولي؛ نو خلق ډلې ډلې په ګڼ ډول پر دوی باندې تويږي، مؤمنانو د شوق، د مينې او رغبت لامله قرآن اورېده، او کافرانو او منافقانو د عناد او عداوت په سبب پر دوی باندې هجوم کاوه، ځينې مفسّرين د دې آيت دغسې ترجمه کوي: او بله وحي شوې ده ماته چې په تحقيق سره کله چې پورته شو لمانځه ته په بطن نخله کې بنده د الله محمد صلی الله عليه وسلم چې باله يې الله، او عبادت يې ورته کاوه، او قرآن يې لوست، او پيريانو قرائت د ده واورېده؛ نو نژدې وو دوی چې کېدل به په ده باندې پرېوتونکي له جهته د ډېر شوقه او د ازدحامه.

قُلْ اِنَّمَآ اَدْعُوْا رَبِّيْ وَلَآ اُشْرِكُ بِهٖٓ اَحَدًا ﴿٢٠﴾

ووايه (ای محمده دوی ته) په تحقيق زه بولم (عبادت کوم د) رب خپل، او شريک نه نيسم له دغه (الله) سره هيڅوک.

تفسیر: یعنې کافرانو ته ووایه چې تاسې د مخالفت په لاره کې دومره هجوم او بیړه ولې کوئ، کومه خبره داسې ده چې په هغې باندې تاسې خفه یئ، زه کومه خرابه او نامعقوله خبره نه کوم، زه خو یوائې خپل رب بولم، او هیڅوک د هغه شریک نه ګڼم، نو په دې کې د جنګ او جګړې سبب څه شی دی؟.

قُلْ إِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) بېشکه زه مالک نه یم، نه توانېږم تاسې لره د څه ضرر (ګمراهی) او نه د څه رشد خیر رسولو (ځکه چې پخپله الله هم ضارّ او هم نافع دی).

تفسیر: یعنې دا ځما په اختیار کې نه ده، چې تاسې په سمه صافه لاره راولم، او که رانشئ تاسې ته کوم ضرر او نقصان درورسوم، ګردې ښېګڼې او خرابی، هدایت او ضلالت د الله تعالی په واک کې دی.

قُلْ إِنِّي لَنْ يُجِيرَنِي مِنَ اللَّهِ أَحَدٌ وَلَنْ أَجِدَ مِنْ دُونِهِ مُلْتَحَدًا ﴿٢٢﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) بېشکه زه چې یم هر ګز به مې خلاص نه کړي له (عذابه) د الله (که چېرې مې په عذاب کړي) هیڅوک او له سره به بیا نه مومم بې له دغه (الله) څخه ځای د پناهی.

تفسیر: یعنې تاسې ته ځما ګټه رسول چېرې ! ځما خپله ګټه او زیان هم ځما په قبضه او واک او لاس کې نه دی، که بالفرض زه پخپلو فرائضو کې څه سستي او تقصیر وکړم؛ نو هیڅوک مې د الله تعالی له عذابه نشي ژغورلی، او هیڅ یو ځای هم داسې نشته چې هلته وتښتم، او پناه حاصله کړم.

إِلَّا بَلَاغًا مِنَ اللَّهِ وَرِسَالَاتِهِ

مګر خو (مالک یم د) تبلیغ (د شریعت تاسو ته) له (طرفه د) الله او (تبلیغ د) رسالت د دغه (الله).

تفسیر: یعنې د الله تعالی له لوري پیغام راوړل، او هغه بندګانو ته رسول همدا یو شی دی چې ځما په اختیار کې دی، او همدا فرض دی چې د هغه د اداء کولو لامله زه د الله تعالی په پناه او حمایت کې پاتې کېدی شم.

وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ﴿٢٣﴾

او هر هغه څوک چې نافرماني کوي د الله او د رسول صلی الله علیه وسلم د دغه (الله)؛ نو بېشکه هغه لره دی اور د دوزخ حال دا چې تل به وي په هغه کې همېشه (چې نه به خلاصیږي ترې هیڅېرې).

تفسیر: یعنې زه د تاسې د ګټې او د زیان مالک نه یم، خو دومره تاسې ته وایم، چې د الله تعالی او ځما د خبرو د نه منلو په سبب تاسې ته ضرور زیان رسیږي.

حَتَّىٰ إِذَا رَأَوْا مَا يُوعَدُونَ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ أَضْعَفُ نَاصِرًا وَأَقَلُّ عَدَدًا ﴿٢٤﴾

تر هغه پورې چې ووینې دوی هغه (عذاب) چې وعده یې ورسره شوې ده؛ نو ژر به پوه شي دوی (په وخت د تعذیب کې چې) څوک دی ډېر ضعیف له جهته د مددګاره، او ډېر لږ له پلوه د شمېره (آیا مؤمنان دي که کافران، بلکه کافران دي).

تفسیر: یعنې تاسې چې سره راغونډ ېږئ، او پر مونږ باندې هجوم راوړئ، او داسې ګڼئ چې د محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه د ملګریو قوّت او شمېر لږ دی، او ورسره ضعیفان او کمزوران هم دي، نو کله چې د وعدې وخت

راشي؛ هلته به درښکاره شي چې د چا ملګري کمزوري او شمېر يې لږ وو؟ وويل بعض کافرانو چې: دا وعده به څه وخت وي؟ نو الله فرمايي:

قُلْ إِنْ أَدْرِيٓ أَقَرِيبٌ مَّا تُوعَدُونَ أَمْ يَجْعَلُ لَهُۥ رَبِّيٓ أَمَدًا ﴿٢٥﴾

ووايه (ای محمده دوی ته) نه پوهېږم چې آيا نژدې دی هغه (عذاب) چې وعده يې درسره کړی شوې ده او که يې مقرره کړې ده هغه لره رب ځما يو زمانه.

تفسير: يعنې د دې خبرې علم ماته نه دی راکړی شوی، چې هغه وعده ژر راتلونکې ده؟ که څه مدّت څخه وروسته؟ ځکه چې د قيامت وخت الله تعالی چاته نه دی ټاکلی، او نه يې چاته ورښکاره کړی دی، دا له هغو پټو خبرو څخه دی چې پرته له الله تعالی ځنې بل هيڅوک په هغې باندې نه دي خبر.

عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٦﴾ إِلَّا مَنِ ٱرْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُۥ يَسْلُكُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ رَصَدًا ﴿٢٧﴾

(الله) عالم دی پر غائبو (اشياوو) باندې؛ نونه خبروي په غيبو خپلو باندې هيڅوک. مګر هغه څوک چې راضي وي ترې (او غوره کړی يې وي په اطلاع د غيبياتو) له رسول خپل څخه، نو بېشکه هغه (الله) روانوي په مخ د هغه (رسول محمد) کې او وروسته له هغه ځنې ساتونکي څوکيداران له هر طرفه (له ملائکو).

تفسير: يعنې د خپلو پټو خبرو احوال هيڅا ته نه ورکوي، هو ! پيغمبرانو ته په همغه اندازه چې د هغو له شان او منصب سره لايق او وړ وي؛ د وحي په وسيله خبر ورکوي، له دې سره د پرښتې پيرې او څوکۍ هم وي، تر څو يې کوم شيطان وانه وري، او څه مداخله په کې ونه کړي، او د رسول صلی الله عليه وسلم نفس هم په هغه باندې په ښه ډول سره وپوهيږي.

لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُوا۟ رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمْ

تر څو چې پوه شي (رسول يا الله په علم ظهور سره) په دې چې بېشکه پوره رسولی دی (جبريل او نورو پرښتو ملګرو د هغه يا رسولانو) پيغامونه د رب خپل (بې له نقصانه او تزييده).

تفسير: يعنې ځکه زبردست انتظامات کاوه شي، چې الله تعالی دا راښکاره کړي چې پرښتې پيغمبرانو ته او پيغمبرانو نورو بندګانو ته دا پيغامونه په ښه ډول سره بې له تزييده او بې له تنقيصه ورسوي.

وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَأَحْصَىٰ كُلَّ شَىْءٍ عَدَدًا ﴿٢٨﴾

او نيوونکی دی (علم د الله او چاپېر دی) په هغه (علم) باندې چې په نزد د دغو (ملائکو او رسولانو) دی، او شمېرلی ساتلی دی (الله) هر شی د شمېر او عدد له مخې (په ډېر ښه انضباط سره).

تفسير: يعنې هر شی د هغه الله تعالی تر کنټرول او نګرانۍ لاندې دی، هيڅوک د دې خبرې طاقت نه لري چې د الله تعالی په وحي کې څه تغيير او تبديل او قطع او پرېکړه وکړي، او دا پيرې او څوکۍ د حکومت د شان د اظهار او د محافظت د اسبابو د سلسلې لپاره ډېرو حکمتونو لره نيوونکې دي، که نه هغه لوی ذات چې په علم او قبضه کې يې هر شی شته؛ داسې شيانو ته هيڅ احتياج نه لري، او نه ورته اړ دی.

تمّت سورة الجنّ بفضله و کرمه، فلله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ المُزَّمِّلِ

«د (المزمّل) سورت مکّي دی، پرته له (۱۰، ۱۱، ۲۰) آیتونو چې مدني دي، شل آیته او دوه رکوع لري، په تلاوت کې (۷۳) او په نزول کې (۳) سورت دی، وروسته د «القلم» له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ﴿١﴾

ای نغښتونکیه د ځان په جامه کې (له هیبته د وحي).

تفسیر: دا سورت له ابتدائي سورتونو ځنې دی، چې په مکّه کې نازل شوی دی، په صحیحو روایاتو کې دي چې په شروع کې کله چې د وحي له ثقل او دهشته د رسول أکرم صلی الله علیه وسلم بدن رېږدېده، نو دوی خپلې کورنۍ ته وفرمایل: «زمّلوني زمّلوني ! په کالیو کې مې ونغاړئ !، په کالیو کې مې ونغاړئ !»، لکه چې دوی په کالیو کې ونغښتل شول، الله تعالی په دې سورت کې او په لاندني سورت کې ځمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم په همدې نامه سره یادوي، او په ځینو نورو راویتونو کې راغلي دي چې قریش په «دار الندوة» کې ټول شوي وو، او د دوی په نسبت یې مشورې سره کولې، چې د دوی له حال سره مناسب کوم لقب ورکړ شي، ځینو یې «کاهن» ځینو یې «مجنون» ځینو یې «ساحر» وویل، خو یو هیڅ یوې خبرې باندې د دوی د رأیو اتفاق حاصل نشو، په پای کې د «ساحر» په لوري یې رجحان حاصل شو، کله چې ځمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم له دې جرګې څخه خبر شو، نو خفه په کالیو کې یې خپل ځان ونغښتو، کښناست لکه چې په عام ډول سره د غم او خپګان په وخت کې هم داسې وضعیت له ښه سړیو څخه لیده کیږي، نو په دې مناسبت سره حق تعالی د تأنیس او ملاطفت لپاره په دې عنوان سره ورته خطاب فرمایي.

قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢﴾

ودرېږه (لمانځه ته) په شپه کې مګر خو په لږه (له ټولې شپې نه).

تفسیر: یعنې که کومه شپه اتفاقًا ونه شوه؛ نو معاف دي، د ډېرو مفسّرینو په نزد د ﴿إِلَّا قَلِيلًا﴾ مطلب دا دی چې: د شپې له مخې د الله تعالی د عبادت لپاره ودرېږي، هو ! که د شپې په کومه لږه برخه کې هوسا کیږي نو څه مضایقه نشته، غالبًا له لږو ځنې به مطلب دلته نیمایي وي، ځکه شپه چې د هوسایي لپاره ده، کله چې نیمه یې په عبادت باندې تېره شوه؛ نو په هغه اعتبار پاتې نیمې ته یې لږ ویل؛ موزون ښکاري، ودرېږه ای محمده لمانځه ته په لږه برخه د شپې کې.

نِّصْفَهُ أَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا ﴿٣﴾ أَوْ زِدْ عَلَيْهِ

(چې هغه نیمه د شپې ده) یا لږه کړه له هغې (نصفه) لږ څه (چې ثلث دی). یا زیاته کړه په هغې (نیمې شپې) باندې (چې ثلثان دي).

تفسیر: یعنې له نیمې شپې ځنې څه لږه چې تر درېیمې برخې پورې رسیږي، یا له نیمایي ځنې څه زیات چې تر دوو ثلثو پورې ورسیږي؛ په قرینې د هغې وینا د الله تعالی چې وروسته له دې نه یې داسې لولو: ﴿إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَىٰ مِن ثُلُثَيِ اللَّيْلِ وَنِصْفَهُ وَثُلُثَهُ﴾ الآیة ـ.

وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ۝۴

او ښکاره واضح لوله قرآن په ښکاره واضح لوستلو سره (چې وشمېرلی شي حروف يې).

تفسير: يعنې په تهجّد کې قرآن په وضاحت سره لوله، چې يو يو توری يې په صاف ډول سره وپوهېدی شي، ځکه چې له داسې لوستلو څخه فهم او تدبّر ته ډېر مدد رسيږي، او په زړه باندې زيات اثر کوي، او په شوق او ذوق کې زيادت راولي.

اِنَّا سَنُلْقِيْ عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيْلًا ۝۵

بېشکه مونږ غورځوونکي يو پر تا باندې قول درونه (قرآن، ځکه چې مشتمل دی په اوامرو او نواهيو، سخت دی پر مکلّفينو باندې).

تفسير: مطلب مې دا دی چې وروسته له دې نه به پر تاسې باندې پرله پسې مونږ قرآن کريم راښکته کوو، چې د خپل قدر او منزلت په اعتبار ډېر قيمتدار او وزندار او د خپلو کيفياتو او لوازمو په اعتبار ډېر درونده او ګران بار دی، په احاديثو کې راغلي دي چې د قرآن کريم د راښکته کېدلو په وخت کې پر رسول أکرم باندې ډېره سختي او تکليف تېرېده، د يخنۍ په موسم کې هم دوی خولې کېدل، که د وحي په وخت کې پر هر څاروي باندې سور وو؛ هغه به د دوی د سورلۍ توان نه درلود، يو ځلې د رسول أکرم صلى الله عليه وسلم پتون د زيد بن ثابت پر پتون باندې وو، په دې وخت کې وحي نازله شوه، زيد بن ثابت ته داسې محسوسه شوه ګواکې د هغه پتون له ډېره باره ماتيږي.

اِنَّ نَاشِئَةَ الَّيْلِ هِيَ اَشَدُّ وَطْاً وَّاَقْوَمُ قِيْلًا ۝۶

بېشکه پورته کېدل د شپې (له خوبه) دغه (پاڅېدل) ډېر سخت دي له پلوه د مشقّته پايمال کولو د نفس (يا له حيثيته د موافقته د سمع له قلبه سره)، او ډېر ښه ثابت محکم دي (دا پورته کېدل له خوبه لپاره د ويلو د قرآن).

تفسير: يعنې د شپې له مخې له خوبه پاڅېدل کوم آسان کار نه دی، ډېر درونده رياضت او نفس وژل دي، او له هغه څخه نفس او هوس پايمال کيږي، او خوب او آرام او نورې نفساني غوښتنې خرابيږي، او د شپې په منځ کې دعاء او د الله تعالى ياد په ډېر ښه ډول سره کاوه شي، زړه او خوله سره ملګرتيا کوي، اوهغه خبرې چې له ژبې څخه راووځي؛ په ذهن کې ښه ځای نيسي، ځکه چې په دې وخت کې شورماشور نه وي، او د الله تعالى له نزول څخه د دنيا په اسمان کې زړه ته يو راز عجيب سکون، او قرار، لذّت او د اشتياق کيفيت ورميسّر او حاصليږي.

اِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيْلًا ۝۷

بېشکه تا لره (ای محمده !) په ورځې کې شُغل دی په کارونو اوږدو کې (له مخلوق سره).

تفسير: يعنې په ورځ کې د خلقو پوهول او نور راز راز مشاغل او چارې ستاسې په مخ کې دي، اګر که هغه هم بالواسطه عبادت دی، خو سره له هغه هم د پرودګار د بلا واسطې عبادت او مناجات لپاره د شپې اوقات تاکل هم لازم دي، که د شپې د مشغولتيا لامله ځينې د شپې چارې پاتې کيږي؛ نو د هيڅ فکر کولو ځای نه دی، او د هغو تلافي د ورځې له مخې هم کېدی شي.

وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا ﴿٨﴾

او یادوه نوم د رب خپل او جدا شه له هر شي څخه په لوري د دغه (رب خپل) جدا کېدل کامل.

تفسیر: یعنې علاوه د شپې له قیامه د ورځې له مخې هم اګر که په ښکاره ډول له مخلوقاتو سره معاملات او علایق ساتلی کیږي، خو په زړه کې د هغه الله تعالی علاقه ډېره زیاته وساتئ !، او په تللو او راتللو ناستې ملاستې کې هم د الله تعالی په یاد او فکر کې مشغول اوسئ !، پرته له الله تعالی نورو شیانو ته مه متوجه کېږئ !، بلکه له ګردو تعلّقاتو ځنې ځان وساتئ !، او یوائې له هغه سره خپل تعلّق او علاقې ټینګې ولرئ !.

رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ

(همدغه الله) رب د مشرق د لمر ختو دی او (رب) د مغرب لمرپرېوتو دی.

تفسیر: مشرق د ورځې او مغرب د شپې نښه ده، ګواکې اشاره یې و کړه چې شپه او ورځ دواړه د هغه مشرق او مغرب د مالك أجلّ وأعلی شأنُه وأعظم برهانُه په رضا غوښتلو سره ښایي صرف کړی شي.

لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيلًا ﴿٩﴾

نشته بل هیڅوک حقاني معبود مګر خو همدی دی یوائې، نو ونیسه دغه (الله) وکیل کار ورسپارلی شوی، کار جوړوونکی لپاره د امورو خپلو.

تفسیر: یعنې بندګي هم د هغه وکړئ !، او توکل هم پر همغه باندې ښایي چې سړی ولري !، کله چې هغه وکیل او کار چلوونکی وي؛ نو له نورو ځنې د جلا اوسېدلو څخه هیڅ وېره نه ده پکار.

وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ

(نو فرمایي الله) او صبر کوه (ای محمده !) په هغه څه باندې چې وایي یې دوی (ځما او ستا په حق کې).

تفسیر: یعنې کفّار تاسې ته ساحر، کاهن، مجنون، مسحور او نور وایي، او ماته د ښځې او ولد نسبت کوي، تاسې داسې خبرې په ډېر صبر او استقلال سره واورئ !، تحمل وکړئ !.

وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيلًا ﴿١٠﴾

او پرېږده دوی په پرېښوولو نېکو سره.

تفسیر: ښه پرېښوول دا دي چې ملامتیا په کې نه وي.

وَذَرْنِي وَالْمُكَذِّبِينَ أُولِي النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيلًا ﴿١١﴾

او پرېږده ما او دروغ ګڼونکي حق لره چې خاوندان د نعمت دي، او مهلت ورکړه دوی ته (مهلت) لږ.

تفسیر: یعنې د حق او صداقت د دروغ ګڼونکو معامله چې په دنیا کې په عیش او آرام دي؛ ماته وسپارئ !، زه به له هغوی سره پوهېږم، مګر لږ وروسته.

إِنَّ لَدَيْنَآ أَنكَالًا وَجَحِيمًا ﴿١٢﴾ وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٣﴾

بېشکه په نزد ځمونږ دي (لپاره د منکرانو په آخرت کې) ځنځیرونه درانه او اور سوځوونکی. او طعام نښتونکی په مرې کې (چې د زقّوم او ضریع ونه ده) او عذاب دردناک.

تفسیر: یعنې عذاب دردناک د مارانو، لږمانو، او الله پوهیږي په نورو څه څه راز عذابونو. (العیاذ بالله).

يَوْمَ تَرْجُفُ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا ﴿١٤﴾

(دا واقع عذابونه په هغې) ورځې کې دي چې وځوځیږي ولږځیږي ځمکه او غرونه، او شي به دا غرونه لکه د شګو ډېرې روانې شوې (تیت پیت ـ خواره واره له ډېره هیبته).

تفسیر: یعنې د هغه عذاب تمهید له هغه وخت راهیسې شروع کیږي، کله چې د غرونو بېخونه سست شي، او په خوځېدو او لږځېدو سره ټوټې ټوټې والوځي، او داسې راښکاره شي لکه د شګې ډېرې چې څوک به قدم پرې نشي ایښودی.

إِنَّا أَرْسَلْنَآ إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَاهِدًا عَلَيْكُمْ

بېشکه مونږ لږلی مو دی تاسې ته (ای محمدي امّته !) رسول (محمد) شاهد په (اعمالو د) تاسې باندې (په ورځې د قیامت کې).

تفسیر: یعنې دا پیغمبر به د الله تعالی په مخ کې شاهدي ورکوي، چې کوم سړي د الله تعالی وحدانیت او د انبیاوو رسالت او شریعت منلی دی؟ او کوم سړي نه دی منلی؟.

كَمَا أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴿١٥﴾

لکه چې لږلی وو مونږ فرعون ته رسول (موسی علیه السلام).

تفسیر: یعنې الله تعالی د موسی علیه السلام په شان تاسې ته هم ای محمده صلی الله علیه وسلم مستقل دین او عظیم الشأن کتاب درکړی دی.

فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ الرَّسُولَ فَأَخَذْنَاهُ أَخْذًا وَبِيلًا ﴿١٦﴾

نو عصیان نافرماني وکړه فرعون له هغه رسول (موسی علیه السلام) څخه؛ پس ونیو مونږ دغه (فرعون) په نیولو سختو سره.

تفسیر: کله چې الله تعالی د موسی علیه السلام منکران په سختې سره ونیول، او د غرق له لارې یې حرق ته واستول، نو د محمد صلی الله علیه وسلّم منکرین به ولې نه نیسي، چې له ځردو پیغمبرانو ځنې افضل او برتر دی.

فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِن كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا ﴿١٧﴾

پس څرنګه به وساتئ (ځانونه خپل) که چېرې کافران منکران شئ (تاسې په دنیا کې) له (عذاب د) هغې ورځې څخه (چې له هیبته) به وګرځوي هلکان واړه سپین ګیري (چې ورځ د قیامت ده).

تفسير: يعني که په دنيا کې خلاص شوئ؛ نو په آخرت کې به څرنګه خلاصېرئ؟ چې د هغې ورځې د ډېر اوږدوالي سختوالي لامله به هلکان زاړه کېږي، که څه هم په حقيقت کې خو هلکان نه زاړه کېږي، خو د هغې ورځې د سختوالي اوږدوالي اقتضاء به همداسې وي.

إِلسَّمَآءُ مُنفَطِرٌۢ بِهِۦ ۚ كَانَ وَعۡدُهُۥ مَفۡعُولًا ١٨

اسمان به وچوي (په سبب د هيبت شدّت د دغې ورځې) ده وعده د هغه (الله په راتللو د دغې ورځې سره) کېدونکې خامخا.

تفسير: يعني د الله تعالى وعده ضروري ده، اګر که تاسې هغه ډېره لرې وګڼئ، او غير ممکنه يې وبولئ.

إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذۡكِرَةٌ ۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ١٩

بېشکه دا (آيتونه) ويروونکي تذکره پند دی (خلقو لره)، نو هر هغه څوک چې اراده کوي (چې) نيسي رب خپل ته لاره (د ايمان په دغه نصيحت سره؛ ودې نيسي).

تفسير: يعني نصيحت کړی شوی دی، نو اوس که څوک خپله فائده غواړي؛ پر هغه نصيحت باندې دې عمل وکړي !، او خپل پروردګار ته دې ځان ورنژدې کړي، او ملجأ دې ونيسي !، ځکه چې لاره خلاصه ده، او هيڅ ممانعت نشته، او نه له هغه څخه الله تعالى ته څه فائده رسيږي، بلکه په هغه کې ستاسې ډېرې فائدې او ګټې دي، نو پر صافه سمه لاره لاړ شئ !.

تنبيه: د شپې د ويښېدلو امر چې د دې سُورت په شروع کې ياد شو؛ تقريبًا تر يوه کال پورې وروسته له هغه هغه آيت په دغه راتلونکي آيت سره منسوخ شو.

إِنَّ رَبَّكَ يَعۡلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدۡنَىٰ مِن ثُلُثَيِ ٱلَّيۡلِ وَنِصۡفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ وَطَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلَّذِينَ مَعَكَ ۚ

بېشکه رب د تا عالم دی په دې بېشکه ته چې يې پاڅېږې لمانځه ته په شپه کې لږ له دوو برخو د شپې څخه، او نيمه برخه د شپې، او دريمه برخه د شپې، او (همدارنګه پورته کېږي لمانځه ته) يوه طائفه له هغو کسانو څخه چې له تا سره دي (په دين کې له مؤمنانو).

تفسير: يعني الله تعالى ته ښکاره ده چې تاسې او ستاسې ملګرو د دې امر تعميل په ښه شان سره کړی دی، کله مو نيمه شپه کله مو دوه برخې کله مو تر دريو برخو د شپې پورې د الله تعالى عبادت کړی دی لکه چې په رواياتو کې راغلي دي، چې د لويو اصحابو رضي الله تعالى عنهم پښې د شپې د ډېرو ودرېدلو لامله پرسېدلې وې.

وَٱللَّهُ يُقَدِّرُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ ۚ عَلِمَ أَن لَّن تُحۡصُوهُ فَتَابَ عَلَيۡكُمۡ ۖ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ ۚ

او الله اندازه کوي ساتي شپه او ورځ، پوه دی (الله) په دې، شان دا دی چې هر ګز به طاقت ونه لرئ تاسې د هغې (شپې چې پورته کېږئ په کې په هغه ټاکلي مقرر کړي وخت)؛ نو معافي يې ولږله پر تاسو باندې، پس ولولئ (په لمانځه کې) هومره چې آسان وي له قرآنه.

تفسیر: یعنې د شپې او د ورځې پوره اندازه او مېچ الله تعالی ته معلوم دی، همدی په یوې ځانته خاصې اندازې سره کله شپه او کله ورځ اوږدوي، لنډوي او برابروي یې، خپل ګرد بندګان د هغوی د خوب او د غفلت په وخت کې چې کله نیمه او کله درې برخې او کله دوه برخې او کله پر ګردې شپې پورې اوږدیږي، په ښه ډول سره یې ساتي او حفاظت یې کوي، په تېره بیا په هغو وختونو کې چې لکه اوس د ګړیو او ګړیالونو او نورو سامان او اسباب نه وو، او د وخت د معلومولو کار دومره آسان نه وو، اصحابو ته یې داسې توفیق وبښه چې پوره پخپل وخت باندې پخپل عبادت ودریږي، دا یواځې د هغه له مهربانۍ ځخه وو، اګر که ځینې کسان ګرده شپه له دې وېرې ځخه نه ویدېدل، چې په ټاکلي وخت به ویښ نشم، او د تهجّد لمونځ او د شپې قیام به راځخه پاتې کیږي، نو د دې تکالیفو لامله الله تعالی پخپل رحمت سره د معافۍ امر هغوی ته ولېږه، او ویې فرمایل چې: تاسې په دې ډول سره تر آخره پورې نشئ درېدلی، نو ځکه هر چا لره چې د ویښېدلو توفیق وي؛ پادې ځیږي !، او هر ځومره یې چې زړه غواړي؛ لمونځ دې وکړي !، او هر ځومره یې چې خوښه وي؛ هومره قرآن دې په کې ولولي !، نو اوس پر محمّدي امّت باندې نه د تهجّد لمونځ فرض دی، او نه یې د وخت مقدار او نه د قرآن شریف د تلاوت او د لوست انداز یې ټاکلی شوی دی.

عَلِمَ اَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ مَّرْضٰى ۙ وَاٰخَرُوْنَ يَضْرِبُوْنَ فِي الْاَرْضِ يَبْتَغُوْنَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ ۙ وَاٰخَرُوْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۖ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۙ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ

پوه دی (الله) شان دا دی چې ژر به شي بعض له تاسې ځنې مریضان ناروغان، او وي به نور له تاسې ځخه په سفر، مزل به کوي دوی په ځمکه کې، لټوي به دوی له فضله رزقه د الله، او وي به نور له تاسې ځخه چې جنګونه به کوي دوی په لارې د الله کې، نو ولولئ تاسې (په لمانځه کې) هومره چې آسان وي له دغه (قرآنه)، او قائموئ سم ودروئ لمونځ (سره له ټولو حقوقو یې) او ورکوئ زکات.

تفسیر: یعنې الله تعالی ولیده او ښه ورته معلوم وو چې په تاسې کې به رنځوران او پردېسیان هم وي، چې د خوړو د ګټلو یا د علم د زده کولو یا د نورو لپاره به سفرونه کوي، او هم به غازیان او مجاهدین وي، چې د الله تعالی په لارې کې جنګونه کوي، نو سره له دې حالاتو د شپې ویښېدل او د هغه په احکامو باندې عمل کول به ډېر سخت کار وي، نو ځکه یې هغه پر تاسې باندې تخفیف کړ، او ویې فرمایل چې: په لمانځه کې هومره قرآن چې لوستلی شئ؛ ویې لولئ !، او پر خپلو ځانونو باندې نور زیات څه تکلیف وانه اخلئ !، هو ! فرض لمونځونه پر ډېر اهتمام او توجه سره وکړئ !، او له شریعت سره برابر زکات ورکوئ !، او د الله تعالی په لاره کې خپل مالونه ولګوئ !.

وَاَقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا ؕ

او قرض کوئ تاسې له الله سره قرض ښه مال ورکوئ په لاره د الله کې (په خوښی له حلالو).

تفسیر: په پوره اخلاص سره د هغه الله تعالی په لارې کې د هغه له احکامو سره سم مال او شته لګول هم هغه ته د ښه پور ورکولو پشان دي، که بندګانو ته حسنه قرض ورکړ شي؛ نو هغه په همدغه عموم کې داخل دی، لکه چې په حدیث کې یې فضیلت ثابت شوی دی.

وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرًا وَّاَعْظَمَ اَجْرًا ؕ

او هر هغه چې وړاندې کوئ يې لپرئ يې تاسې لپاره د ځانونو خپلو له څه خير نېکی څخه؛ نو بيا به مومئ تاسې هغه (نېکی) په نزد د الله، دا (پخوا لپرل د حسناتو) خير ډېره غوره ده او ډېره لويه ده له پلوه د اجر ثواب.

تفسير: يعنې هغه نيکي چې تاسې يې دلته کوئ، د هغه بدل به هلته په ډېر ښه صورت سره مومئ، او ډېر زيات اجر ثواب به تاسې ته له هغه څخه دررسيږي، او داسې يې مه ګڼئ هغه نيکي چې مونږ يې په دنيا کې کوو؛ همدلته ختميږي به، بلکه هغه ګرد سامان له تاسې څخه د مخه هلته رسيږي، او په عين حاجت او اړتيا کې ستاسې په کار راځي.

وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۲۰

او بښنه وغواړئ له الله په هر حال کې، بېشکه الله دی ښه مغفرت کوونکی (د خطيّاتو) ډېر رحم کوونکی دی.

تفسير: يعنې تاسې ګرد شرعي حکمونه په ځای راوړئ !، او بيا د الله تعالی له حضوره معافي وغواړئ !، ځکه هر څومره محتاط سړی چې وي؛ بيا هم له هغه څخه څه نه څه ګناه او خطا کيږي.

تمّت سورة المزمّل بفضل الله ومنّه، فله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ المُدَّثِّرِ

«د (المدّثر) سورت مکّي دی، (۵۶) آیته او (۲) رکوع لري، په تلاوت کې (۷۴) او په نزول کې (۴) سورت دی، وروسته د (المزمّل) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ۝١ قُمْ فَأَنْذِرْ ۝٢

ای په جامه کې نغښتونکیه (له هیبته د وحي) پورته شه ! (له ځایه د خوبه خپله). نو وویروه (خلق له عذابه د الله که ایمان را نه وړي).

تفسیر: دلته دې د «المدثّر» په نسبت د «المزمّل» تفسیر دې ځمونږ دغه تفسیر کې ولوستله شي، یعنې د وحي له ثقاله او د پرښتو له هیبته نه ښایي چې تاسې وویرېږئ، یا وډار شئ، د تاسې کار خو دا دی چې ګردې هوسایۍ او آرامۍ مو پرې اینبي دوی له الله تعالی څخه وویروئ، او د کفر او د معصیت له خراب انجام څخه یې وډار کړئ.

وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ۝٣

او رب خپل پس په لویۍ سره یادوه.

تفسیر: ځکه چې د الله تعالی د لویۍ د ویلو او د هغه د عظمت او بزرګۍ له بیانولو څخه د هغه وېره په زړونو کې پیدا کیږي، او د الله تعالی تعظیم او تقدیس داسې یو شی دی چې د هغه معرفت ښایي له ګردو (ټولو) اعمالو او اخلاقو څخه پخوا حاصل شي.

وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ۝٤ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ۝٥

او کالي (جامې) خپل پاک وساته ! (له پلیتۍ نه، لکه چې ځان دې پاک ساتې). او ګندګي ګناه او بُتان پس ترک کړه (دائم اوسه په ترک یې لکه چې له نورو ګناهونو څخه په څنګ یې !).

تفسیر: د دې سورت په نازلېدلو کې حکم شوی دی چې ګرد مخلوق د خالق په لوري وبلل شي !، بیا د لمانځه او نورو حکم شوی دی، د لمانځه لپاره شرط دی چې کالي پاک وي، او له پلیتۍ ځنې ځان وژغورل شي، دا دي چې هغه شیان یې دلته بیان وفرمایل.

دا ښکاره ده: کله چې کالي پاک ساتل له حسي او معنوي نجاستونو ځنې ضروري دي؛ نو د بدن پاکي به په طریق اولی سره حتمي او ضروري وي، نو ځکه د هغه د بیان ضرورت پاتې نشو، ځینو عالمانو د کالي له پاک ساتلو ځنې له بدو اخلاقو ځنې د نفس پاک ساتل مراد کړي دي، او د ګندګۍ له لرې کېدلو څخه دا معنی مرادوي چې د بُتانو له ګندګۍ ځنې لرې شئ !، لکه چې تر اوسه پورې لرې یئ.

وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ ﴿٦﴾ وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ﴿٧﴾

او مه کوه داسې (لږ) احسان چې بدل يې ډېر غواړې. او لپاره د رب خپل پس صبر کوه (او هيله ـ امید ورته ولره، احکامو ته يې منتظر اوسه !).

تفسير: دلته الله تعالى أعظم برهانُه همّت او اولولعزمی رابنيي، چې هر شی مال، دولت، علم، لار ښوونه يا نور چې چاته ورکوئ؛ نه ښايي چې د هغه بدل عوض او ونج وغواړئ، يواځې د الله تعالى پر ورکړه باندې شاکر او صابر اوسئ !، او هغه شدائد چې د تبليغ او دعوت په لاره کې تاسې ته پيښيږي؛ د هغه په مقابل کې له صبر او تحمّل څخه کار واخلئ.

فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ ﴿٨﴾ فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ ﴿٩﴾

پس کله چې پو کړه شي په صور (شپېلۍ) کې. نو هغه (وخت د) پوکي په دغه ورځ کې ورځ سخته ده.

تفسير: يعنې د هغې ورځې په واقعاتو او پېښو کې د صور نفخ او د شپېلۍ پوکل ګواکې يو مستقله ورځ او ځانته پېښه ده، چې له سره تر پايه پورې به له مشکلاتو ځنې ډکه وي.

عَلَى الْكَافِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ﴿١٠﴾

پر (منکرانو) کافرانو باندې نه به وي اسانه.

تفسير: يعنې پر منکرانو کافرانو باندې به هيڅ ډول اساني نه وي، بلکه د هغې ورځې سختي به لحظه په لحظه پر هغوی باندې زياتيږي، پرته له مؤمنانو څخه چې که دوی سختي هم ووينې؛ خو د څه مدّت له مخې به وي، او وروسته له هغه به بيا په دې باندې ډېره آساني شي.

ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا ﴿١١﴾

پرېږده ما او هغه څوک چې پيدا کړی مې دی يواځې (بې له ماله او بې له مددګاره اولاده).

تفسير: هر سړی د مور له ګېډې څخه يواځې او جره راځي، مال، اولاد، فوج، لښکر، سامان او نور شيان له ځان سره نشي راوړی، يا به له وحيد څخه مراد خاص «وليد بن مغيره» وي، چې د هغه په باره کې دا آيات نازل شوي دي، ځکه چې وليد د خپل پلار يو ځوی وو، او د دنيوي ثروت او لياقت له اعتباره په عربو کې يو نومیالی سړی وو، مطلب دا دی چې د داسې منکرانو په معاملو کې چابکتيا مه کوئ !، او مه د دوی له مهلت موندلو څخه خفه کېږئ !، بلکه د هغوی ګردې خبرې ماته پرېږدئ !، زه به ټول پخپل هيداد او سزا ورسوم، نو نه ښايي چې تاسې خفه او پرېشان شئ.

وَجَعَلْتُ لَهُ مَالًا مَّمْدُودًا ﴿١٢﴾ وَبَنِينَ شُهُودًا ﴿١٣﴾

او بيا مې وګرځاوه، ور مې کړ ده ته مال ډېر زيات (له هر قسمه چې تل زياتېده). او ځامن حاضر (کېناستونکي له ده سره په هره مرکه مجلس کې).

تفسير: يعنې وليد ځوی د مغيره د ډېر مال او اولاد او د ډېرو شتو خاوند وو، لس واړه ځامن يې تل د هغه په مخکې وو، په جرګو او مرکو کې به يې د خپل پلار عزّت او وقار ډېر زياتوو، او نور به ترې ويرېدل، د سوداګرۍ په چارو او د نورو کارونو لپاره به د هغه په مخ کې ډېر سړي وو، او هيڅ ضرورت نه پېښېده چې ځامن يې د پلاره له مخې څخه غائب شي.

وَّمَهَّدتُّ لَهٗ تَمۡهِيۡدًا ﴿١٤﴾

او تياري مې وکړه، پراخي مې وکړه ده لره تياري (په عيش، عمر، مال، اولاد، رياست سره).

تفسير: يعنې وليد ځوی د مغيره په دنيا کې ډېر د عزت خاوند وو، او خپل ځان ته يې د رياست او حکم ډېر ښه مسند تيار کړی وو، لکه چې ګرد قريش به هر مشکل کار کې هغه ته ورتلل، او دی به يې د خپلو ځانونو حاکم او مشر ګڼلو.

ثُمَّ يَطۡمَعُ اَنۡ اَزِيۡدَ ﴿١٥﴾

بيا طمع کوي اميد لري دی چې لا به ښه زيات کړم (ده لره دغه ټول شيونه).

تفسير: يعنې د وليد ځوی د مغيره له ژبې څخه سره له دغه ډېر نعمت او ثروت د شکر توری به هيڅکله نه وتو، او که رسول أکرم صلى الله عليه وسلم به د هغه په مخ کې کله د جنّت د نعمتونو ذکر فرمايه؛ نو ده به ويل: «که دا سړی په خپل بيان کې رښتين وي؛ نو زه کامل يقين لرم چې د هغه ځای نعمتونه هم ماته رارسيږي»، نو د هغه په نسبت فرمايي چې سره له دومره ناشکری او حق نه پېژندلو داسې هيله هم لري چې الله تعالى هغه ته د دنيا او آخرت نعمتونه لا زياتوي.

دغه خو بې له ايمانه او شکرانه سره کېدونکې نه دي، لکه يخپله الله أجلّ شأنُه وأعظم برهانُه داسې فرمايي:

كَلَّاۤ اِنَّهٗ كَانَ لِاٰيٰتِنَا عَنِيۡدًا ﴿١٦﴾

نه کوم داسې (چې مال او سړی او نعمتونه يې ډېر کړم)، بېشکه هغه وو آيتونو ځمونږ لره عناد کونکی مخالف.

تفسير: يعنې کله چې د هغه حقيقي منعم له آيتونو ځنې وليد ځوی د مغيره مخالف دی؛ نو دی هيڅ حق نه لري چې داسې توقّع او هيله ولري، او هسې خيالي پلاوونه پاخه کړي، وايي چې د دې آيتونو له نازل کېدلو ځنې وروسته پرله پسې د ده په مال او اسباب کې نقصان پېښېده، تر څو چې ملنګ او فقير شو، او په ډېره خواری او ذلّت سره مړ شو.

سَاُرۡهِقُهٗ صَعُوۡدًا ﴿١٧﴾

ژر ده چې مکلّف به يې کړم په مشقّت عذاب سخت سره (يا) وبه يې خپژوم پر لوړ غره د اور باندې.

تفسير: يعنې اوس هغه «وليد» ځوی د «مغيره» ته ډېر په لوړه باندې ختل پاتې دي، او په خورا سختو مصائبو کې يې اخته کېدل په مخ کې دي، او په ځينو روايتونو کې راغلي دي چې «صعود» په دوزخ کې د يوه غره نوم دی، چې په هغه باندې کافران تل خپژول کيږي، او بيا د هغه له څوکې ځنې راښکته رغړول کيږي، چې دا هم بالذات يو قسم عذاب دی.

تنبيه: «وليد» يو ځلې د رسول أکرم صلى الله عليه وسلم په حضور مشرّف شو، دوی «وليد» ته د قرآنکريم څو آيتونه واورول، چې «وليد» د هغو له اورېدلو څخه لږ څه متأثّر شو، مګر ابو جهل يې وغولاوه، په قريشو کې يو شورماشور ونښت، چې که «وليد» مسلمان شي؛ نو کفارو ته به سخته خرابي پېښيږي، نو ځکه ګرد سره راټول شول، او د رسول أکرم صلى الله عليه وسلم په نسبت راز راز خبرې وشوې، ځينو ويل چې: شاعر دی، او ځينو کاهن او نور ويل،

«ولید» وویل چې: «زه پخپله په شعر او شاعرۍ کې پوه او ماهر یم، او د کاهنانو خبرې مې هم ډېر اوربدلې دي، خو دا قرآن نه شعر دی، نه سحر، او نه کهانت»، خلقو وویل: «آخر ستا فکر د هغه په نسبت څه دی؟»، ویې ویل چې: «ماته وار راکړئ چې زه ځُرت ووهم»، په پای کې یې وچولی تریو او خوله یې ورانه کړه، او ویې ویل چې: «هیڅ شی نه دی، هغه کوډې دي چې له بابلیانو ځنې نقل شوي دي»، حال دا دی چې ده پخوا له دې نه د قرآن د اوربدلو په وخت ویلي وو چې: دا نه کوډې دي، او نه د لېونیانو د خبرو په شان دي، بلکه د الله تعالی کلام دی، مګر یواځې د نورو خپلوانو د خوښولو لپاره یې وروسته له خپله ځانه هسې یوه خبره جوړه کړه، لکه چې وروسته د همدې په لوري اشاره شوې ده.

إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾

ببشکه هغه فکر وکړ (چې څرنګه طعن وکړم په قرآن) او اندازه یې وکړه په زړه خپل کې. ووژلی شو (ملعون کړ شو) څرنګه یې اندازه وکړه. بیا دې ووژلی شي (ملعون دې کړ شي) څرنګه یې اندازه وکړه (په طعن د قرآن او محمّد کې).

تفسیر: یعنې دې بدبخت «ولید» پخپل زړه کې خبره جوړه او داسې یې غوره کړه چې قرآن کوډې دي، الله تعالی دې دی غارت کړي او ملعون یې وګرځوي، او ودې وژني، دا یې څومره چټې او مهمل تجویز وکړ، بیا دې یې الله تعالی غارت کړي، او ملعون یې وګرځوي، او ودې وژني، چې ده د خپل قوم د جذباتو لحاظ داسې وکړ چې سم د هغوی له خوښې سره یې یوه هسې خبره ویله چې ګرد تري خوښ شول.

ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ وَٱسْتَكْبَرَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ ﴿٢٤﴾ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا قَوْلُ ٱلْبَشَرِ ﴿٢٥﴾

بیا یې وکتل. بیا یې مخ تریو کړ او وچولی (تندی) یې غوټه کړ (له کراهیته). بیا یې شا واړوله (له محمده) او غاړه یې وغړوله (له اسلامیته). نو ویې ویل: نه دی دا (قرآن) مګر خو سحر دی چې نقل کاوه شي (له نورو ساحرانو نـه). نه دی دا (قرآن) مګر خو خبره د بشر بني آدم ده.

تفسیر: یعنې «ولید» د کفّارو ټولنې ته وکتل، او خوله یې ورانه کړه، بیا یې په وینا شروع وکړه، تر څو لیدونکي وپوهیږي چې دی د قرآن په نسبت سخت کراهیت او انقباض لري، بیا یې هسې شا واړوله لکه چې د یوه منفور شي په نسبت وینا کوي، او حال دا دی چې پخوا یې د ده د حقّانیت په نسبت اقرار کړی وو، اوس دی د خپلوانو د خوښۍ لامله له هغې وینا څخه واوښت، او په ډېر غرور او تکبّر سره یې وویل چې: «بس بل شی نه دی، دا هغه سحر او جادو دی چې له پخوانیو نقل شوی رائي، او په یقین سره دا د سړي خبره ده چې د جادو په ډول لاره له ځوی، مېړه له ښځې، دوست له دوسته جلا کوي».

نو اوس الله أعظم شأنُه وأكرم برهانُه د ده د دغې وینا داسې تردید فرمایي:

سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾

(نو فرمایي الله) ژر به داخل کړم دی سقر (اور د دوزخ) ته.

تفسیر: یعنې ژر به هغه په اور کې واچوم، او د ده د عناد او تکبّر خوندونه به هغه ته وروڅکوم.

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا سَقَرُ ۝٢٧ لَا تُبۡقِي وَلَا تَذَرُ ۝٢٨

او څه شي پوره کړی يې چې څه دی اور د سقر؟. نه پاتې کيږي (ترې هيڅ شی د غوښو بې له سوځولو) او نه پرېږدي (هلهوکي بې له سوځولو نه).

تفسير: يعني د دوزخيانو هيڅ يو شی به داسې نه پاتې کيږي چې ونه سوځي، بيا له سوځېدلو څخه وروسته به په همغه خپل حال باندې هم نه پاتې کيږي، بلکه دويم ځلي به بيا پخپل هغه اصلي حالت باندې بېرته اوړي، او بيا سوځي، او دا سلسله به تل جاري پاتې کيږي.

لَوَّاحَةٌ لِّلۡبَشَرِ ۝٢٩ عَلَيۡهَا تِسۡعَةَ عَشَرَ ۝٣٠

سوځوونکی تورووونکی دی (دغه اور بشره د کافرو) سړيو لره. په هغه (اور د سقر) باندې موکّلې دي نولس پرښتې.

تفسير: يعني د بشرې پوستکی او نور هغه شيان چې د انسان پر بدن په نظر راځي؛ ټول به وريژيږي او تک تور به اوړي، او د دوزخي حيثيت به بيخي خرابوي، شاه صاحب ليکي: لکه چې اوسپنه په اور کې سره شي، او تکه سره برېښي، د کافرانو بنـي آدمانو د ساقونو او د پنډې پوستکي او پردې به همغسې رابرېښي، ځينې د ﴿لَوَّاحَةٌ لِّلۡبَشَرِ﴾ ترجمه داسې کوي: ظاهر کېدونکی خلقو لره، يا په نظر راتلونکی پر بدن باندې، ﴿عَلَيۡهَا تِسۡعَةَ عَشَرَ﴾ «پر هغه اور د سقر باندې موکّلې دي نولس پرښتې»، يعني د دوزخ د انتظام لپاره هغه پرښتې لښکرې چې ټاکلې (مقرر) شوي دي؛ د هغوی مشر توب او لار ښوونې ته نولس مشران مقرّر شوي دي.

وَمَا جَعَلۡنَآ أَصۡحَٰبَ ٱلنَّارِ إِلَّا مَلَٰٓئِكَةً

او نه دی ګرځولې مونږ خازنانې موکّلانې د دوزخ مګر پرښتې (ډېرې قوّتناکې).

تفسير: د نولسو د شمېر له اورېدلو څخه کافرانو خندل، او ملنډې يې پرې وهلې، او ويل به يې چې: ځمونږ شمېر له زرګونو څخه زيات دی، نولس پرښتې پر مونږ باندې څه کولی شي؟ که هغوی ډېر زور ولري؛ نو هرومرو ځمونږ د لسو تنو له مقابلې ځنې يوه پرښته نشي وتلی، يوه پهلوان د دوی له منځه وويل: «چې زه يواځې د دې نولسو پرښتو له منځه اوولسو تنو لره بس يم، د دوو نورو ساتنه ستاسې په غاړه ده»، نو په دې مناسبت دا آيت رانازل شو، يعني دوی خو په شمېر نولس دي، ولې پرښتې دي، بنيادمان نه دي، او د هرې يوې پرښتې قوّت دومره زيات دی چې د لوط عليه السلام ټبر او کلی يې په يوه لاس لکه چې ډوډۍ په تبې باندې پر بل مخ اړوي؛ واړول.

وَمَا جَعَلۡنَا عِدَّتَهُمۡ إِلَّا فِتۡنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ

او نه دی ګرځولی مونږ (دا لږ) شمېر د دوی مګر فتنه ازمويښه لپاره د هغو کسانو چې کافران شوي دي (چې استهزاء او ټوکې پرې کوي، چې دا څه عدد دی چې مقرر شوی دی؟).

تفسير: يعني د کافرانو د عذابولو لپاره د نولسو پرښتو شمېر پر يوه خاص حکمت باندې مبتني دی، او د دې شمېر له بيانولو څخه د منکرانو ازمويښه مقصد ده، چې آيا د دې له اورېدلو څخه کوم يو ويريږي؟ او کوم يو پرې خاندي او ملنډې پرې وهي.

او بل مو ذکر د نولسو پرښتو وکړ، لپاره د دې:

لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَيَزْدَادَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِيْمَانًا وَّلَا يَرْتَابَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۙ

تر څو چې يقين وکړي هغه کسان چې دوی ته ورکړی شوی دی کتاب (چې يهود او نصاری دي، ځکه چې د دوی په کتابونو کې د خازنانو د اور همدغه عدد وو)، او (بل لپاره د دې چې) زيات کړي هغه کسانو لره چې ايمان يې راوړی دی په محمد له اهل کتابو نه له جهته د ايمان، ايمان يې زيات کړي (او لپاره د دې) چې ونه کړي شک هغه کسان چې دوی ته ورکړی شوی دی کتاب او مؤمنان.

تفسير: يعنې اهل د کتابونو ته دا شمېر لا پخوا معلوم وو، لکه چې د «ترمذي» په يوه روايت کې راغلي دي، يا لږ تر لږه د نورو سماوي کتابونو په ذريعه به دومره پوهيدلي وي چې يوه پرښته څومره زور او قوّت لري، او حال دا دی چې نولس پرښتې هم دومره لږ شمېر نه دی، بله دا چې د تعذيب د انواعو په اعتبار ښايي چې مختلفې پرښتې پر دوزخ باندې مأموري وي، او دا کار يوائې د يوې پرښتې له لاسه پوره نه دی، په هر حال له دې بيان ځخه د اهل کتابو په زړونو کې د قرآن د حقيت يقين پيدا کيږي، او د مؤمنانو په زړونو کې له دې ځنې د ايمان قوّت لا زياتيږي، او د دې دواړو ډلو په زړونو کې د پاک قرآن په بيان کې هيڅ يو شک اوترديد او اشتباه نه پاتې کيږي، او نه مؤمنان د کافرانو په دې مسخرو او ملنډو باندې تېروځي او غوليږي، او بل مو ذکر د نولسو پرښتو وکړ لپاره د دې:

وَلِيَقُوْلَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْكٰفِرُوْنَ مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ۭ

او چې ووايي هغه کسان چې په زړونو د هغوی کې مرض ناروغي (د نفاق) ده، او (ووايي) کافران: څه شی اراده کړې ده الله پر دې شمېر (د ملائکو) سره له جهته د مثاله.

تفسير: له ﴿الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ﴾ څخه منافقان يا ضعيف الايمان سړي مراد دي، او له «کافرون» څخه ښکاره منکران مطلب دي، يعنې د نولسو له بيان ځنې مقصد څه وو؟ داسې ناموزونه خبره څوک منلی شي؟ (العياذ بالله).

كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَاۗءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ

همداسې (په شان د ګمراه کولو د منکرانو) ګمراه کوي الله هر هغه څوک چې اراده وفرمايي د ضلالت يې، او سمه لاره ښيي هر هغه چاته چې اراده وفرمايي (د هدايت يې).

تفسير: يعنې له يوه ځيز ځنې يو بد استعداده سړی ګمراه کيږي، او يو سليم الطبع انسان لاره مومي، څوک چې غواړي کومه خبره ونه مني؛ نو خامخا ښه خبره په بدې باندې اړوي، او له هغې ځخه مسخرې او ملنډې جوړوي، او د هر چا په زړه کې چې د الله تعالی وېره او ايمان وي؛ نو د هغه له اوربدلو ځخه د ده ايمان ټينګيږي، او يقين يې ترقي کوي.

وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ ۭ

او نه پوهيږي په لښکر د رب ستا مګر همدغه.

تفسير: يعنې د الله تعالی د بې شمېرو لښکرو شمېر يوائې هغه ته معلوم دی، دا نولس تنه پرښتې خو يوائې د دوزخ د کارکوونکيو پرښتو مشرانې دي.

وَمَا هِيَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ ﴿٣١﴾

او نه دی دا (سقر، جهنّم) مګر خو ذکر پند دی خلقو ته (چې پرې پند ونیسي).

تفسیر: یعنې د دوزخ ذکر یواځې د عبرت پند او نصیحت لپاره دی، تر څو د هغه د احوالو له اورېدلو څخه خلق د الله تعالی له غضبه وویریږي، او د هغه له نافرمانۍ څخه مخ واړوي.

كَلَّا وَالْقَمَرِ ﴿٣٢﴾ وَاللَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ ﴿٣٣﴾ وَالصُّبْحِ إِذَا أَسْفَرَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهَا لَإِحْدَى الْكُبَرِ ﴿٣٥﴾

نه ده داسې (چې څوک به انکار وکړي له سقره) او قسم دی په سپوږمۍ باندې. او په شپې باندې کله چې شا واړوي. او په ګهیځ (سحر) باندې کله چې رون شي؛. بېشکه دا (اور د سقر) خامخا (یو له بلاګانو) لویو څخه دی.

تفسیر: یعنې هغه خورا لوی وبرووونکي او ډېر عظیم الشأن شیان چې په قیامت کې ظاهر کېدونکي دي؛ دوزخ له هغو لویو شیانو ځنې یو شی دی.

نَذِيرًا لِّلْبَشَرِ ﴿٣٦﴾ لِمَن شَاءَ مِنكُمْ أَن يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ ﴿٣٧﴾

وبرووونکی دی (سقر) بشر بنې آدمانو لره. هغه چا لره چې غواړي له تاسې ځنې چې وړاندې شي (نېکۍ، جنّت ته په ایمان سره) یا وروستی شي (شرور ته په کفر سره).

تفسیر: که وړاندې لاړ شي؛ د نېکۍ یا د جنّت په لوري درومي، که ببرته پاتې شي؛ په بدۍ اخته کېږي، یا په دوزخ کې لویږي.

كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ ﴿٣٨﴾ إِلَّا أَصْحَابَ الْيَمِينِ ﴿٣٩﴾ فِي جَنَّاتٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٤٠﴾ عَنِ الْمُجْرِمِينَ ﴿٤١﴾

هر نفس په سبب د هغه چې کړی یې وي؛ ګرو، بندي به وي (په سقر کې). مګر خو خاوندان د ښي لاس. وي به په جنتونو کې چې پوښتنې به سره کوي یو له بل. له حال د مجرمانو (ګنهګارانو).

تفسیر: یعنې هغه خلق چې د میثاق په ورځ کې د آدم علیه السلام د شا له ښي لوري څخه وتلي وي، او په دنیا کې یې هم ښي چارې کړي وي، او په سمه لاره تللي وي، او په موقف کې د عرش په ښي خوا چېرې چې جنّت وي؛ ودریږي، او په همغه طرف رهي کېږي، او د هغوی عملنامې هم په ښي لاس کې ورکړی شوي وي؛ نو دا خلق نه یواځې له قیده او رنځ څخه خوشې دي، بلکه د جنّت په باغونو کې خوښ، خوشاله، او په خپل واک سره ګرځي، او په خورا بېفکرۍ او فارغ البالۍ سره له خپلو نورو ملګرو یا پرښتو څخه د ګنهګارانو احوال پوښتي، چې هغوی چېرې دي؟ چې دلته نه ښکاري؟.

مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ ﴿٤٢﴾

(نو وبه وایي مؤمنان منکرانو ته داسې چې:) څه شي داخل کړي یئ تاسې (ای منکرانو) په دوزخ کې.

تفسیر: یعنې کله چې واوري چې ګنهګاران په دوزخ کې اچولی شوي دي؛ نو دوی د دې ګنهګارانو په لوري متوجّه کېږي، او داسې پوښتنې ترې کوي چې تاسې سره له پوهنې او عقل څرنګه د دوزخ په اور کې لویدلي یئ؟.

قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ ﴿٤٣﴾ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِينَ ﴿٤٤﴾ وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ الْخَائِضِينَ ﴿٤٥﴾
وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّينِ ﴿٤٦﴾ حَتَّىٰ أَتَانَا الْيَقِينُ ﴿٤٧﴾

وبه وايي (مجرمان په ځواب د مؤمنانو کې چې) نه وو مونږ (په دنيا کې) له لمونځ کوونکيو ځخه. او نه وو مونږ چې طعام خواړه مو ورکړي وی مسکينانو ته. او وو مونږ چې ننوتلو شغل مو کاوه په (باطلو) خبرو سره له ډېرو خبرو کوونکيو. او وو به مونږ (په دنيا کې) چې دروغ به مو ويل په ورځ د جزاء (قيامت) باندې. تر هغه پورې چې راغله مونږ ته (هغه) يقيني خبره (مړ ځ).

تفسير: يعنې نه يې د الله تعالى حق وپېژنده، او نه يې د بندګانو خبر واخيست، هو ! د نورو خلقو په شان به يې د حق په خلاف بحثونه کول، او په بدو صحبتونو کې کښاسته، تر څو د شکوکو او شبهاتو په دلدل کې کېواته، او له ګردو ځخه لويه خبره دا ده چې د هغوی باور نه وو چې د انصاف ورځ به هم راتلونکې وي، او تل به هغو رښتيا خبرې دروغ ګڼلې، تر څو چې د مړ ځ په کنده کې ولوېده، او پخپلو سترګو يې وليده، او په هغو ګردو خبرو چې دروغ يې بللې پوره، باور وشو.

فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشَّافِعِينَ ﴿٤٨﴾

(نو فرمايي الله) پس نفع ځ ته به ونه رسوي دوی ته شفاعت د سپارښت کوونکيو.

تفسير: د کافرانو په حق کې به هيڅوک سپارښت ونه کړي، او که يې وکړي؛ نه به منلی کيږي.

فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ ﴿٤٩﴾

پس ځه شوي دي په دوی باندې چې له تذکره پنده (قرآنه) مخ ځ ګرځوونکي دي.

تفسير: يعنې سره له دې چې دا مصيبتونه د دوی په مخ کې دي، او ښه پندونه هم اوري، خو هيڅ نه متأثر کيږي، بلکه د هغوی له اوربدلو ځنې هم غاړه غړوي.

كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنفِرَةٌ ﴿٥٠﴾ فَرَّتْ مِن قَسْوَرَةٍ ﴿٥١﴾

ګواکې دوی (صحرايي خره) ګوره خر دي تښتېدونکي. چې تښتي له ځمري (يا له غال مغال) ځخه.

تفسير: يعنې د حق او حقيقت د شورماشور له اوربدلو ځخه، او د الله تعالى د ځمريانو له غږېدلو ځخه لکه وحشي خره لرې تښتي.

بَلْ يُرِيدُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿٥٢﴾

بلکه غواړي هر يو سړی له دوی نه دا چې ورکړی شي ده ته پانې خورې شوې (په متابعت د محمد کې).

تفسير: يعنې نه غواړي چې د پيغمبرانو خبرې واوري، بلکه له دوی ځنې د هر سړي غوښتنه دا ده چې پخپله په ده باندې د الله تعالى صحيفې رانازلې شي، او دی هم پيغمبر وپېژنده شي، لکه چې د الأنعام سورت په پينځلسمه رکوع (١٢٤) آيت ځمونږ دغه تفسير کې راغلي دي: ﴿حَتَّىٰ نُؤْتَىٰ مِثْلَ مَا أُوتِيَ رُسُلُ اللَّهِ﴾.

كَلَّا بَل لَّا يَخَافُونَ الْآخِرَةَ ﴿٥٣﴾

داسې نه ده (ور به نه کړی شي دوی ته دا پاڼې) بلکه نه ویریږي دوی له (عذابه د) آخرت څخه.

تفسیر: یعنې هیڅکله به داسې نه کیږي، ځکه چې نه په هغو کې دا لیاقت شته، او نه د دې خبرې د اجراء لپاره څه اړه او ضرورت دی، یعنې که چېرې دغه پاڼې هم دوی ته ورکړی شي؛ نو بیا هم دوی ایمان نه راوړي، نو پس څنګ کول د دوی له ایمانه په سبب د نه راتللو د کاغذونو سره نه دي، بلکه دوی نه ویریږي له عذابه د آخرته.

كَلَّا إِنَّهُ تَذْكِرَةٌ ﴿٥٤﴾ فَمَن شَاءَ ذَكَرَهُ ﴿٥٥﴾

نه ده داسې چې دوی وایي (قرآن ته چې سحر کهانت دی)، بېشکه دا (قرآن) تذکره پنده دی.
پس هر هغه څوک چې غواړي پند دې واخلي له دغه (قرآن).

تفسیر: یعنې داسې له سره نشي کېدی چې هر یوه ته ببل ببل کتاب ورکړ شي، همدا یو کتاب پاک قرآن د پند لپاره بس او کافي دی، ﴿فَمَن شَاءَ ذَكَرَهُ﴾ «پس هر هغه څوک چې غواړي؛ پند دې واخلي له دغه قرآن څخه».

وَمَا يَذْكُرُونَ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ

او نه اخلي پند (له قرآنه) دوی مګر که اراده وفرمایي الله (د هدایت یې).

تفسیر: یعنې د الله تعالی غوښتل او نه غوښتل اګر که د ده په حکمت باندې مبني دي، چې هیڅ یو بشر په هغه باندې احاطه نشي کولی؛ همدی د هر سړي استعداد او لیاقت په ښه ډول سره پېژني، او سم له هغه ورسره معامله کوي.

هُوَ أَهْلُ التَّقْوَىٰ وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴿٥٦﴾

همغه (الله) دی اهل (وړ) د وېرې (چې ترې وویریږو)، او اهل د بښنې (چې بښنه ترې وغواړو).

تفسیر: یعنې سړی هومره ګناه چې وکړي، خو هر کله چې د تقوی په لارې باندې لاړ شي، او له الله تعالی څخه وویریږي؛ نو دی به یې ګرد ګناهونه وبښي، او د هغه توبه به ومني، ځکه د الله تعالی نه وېره پکار ده؛ او هم دی بښنه او مغفرت کوي.

تمّت سورة المدّثر بمنّه وتوفيقه، فله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ القِيَامَةِ

«د (القيامة) سورت مکي دی، (۴۰) آیته او (۲) رکوع لري، په تلاوت کې (۷۵) او په نزول کې (۳۱) سورت دی، وروسته د (القارعة) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ ﴿١﴾

قسم خورم زه په ورځې د قیامت باندې.

تفسیر: یعنې د قیامت د ورځې امکان د عقل له مخې او متیقن الوقوع کېدل یې د داسې مخبر صادق په وینا سره ثابت شوي دي چې د هغه په صدق باندې قطعي دلائل قائم دي، زه په هغه باندې قسم خورم چې تاسې په یقین وروسته له مړینې څخه بیا ژوندي کېږئ، او ضرور به د ښو او د بدو حساب کیږي.

تنبیه: اسلامي شریعت مسلمانانو ته پرته (علاوه) له الله تعالی پر بل شي باندې قسم یادول حرام کړي دي، خو د الله تعالی شان له بندګانو ځنې جلا او بېل دی، هغه لوی ذات پرته له خپل ځان څخه په بل باندې هم قسم یادوي، او عموماً پر هغه شیانو باندې قسم یادوي چې د ده په نزد محبوب یا نافع یا وقیع او مهتم بالشأن وي، یا مقسم علیه لپاره په ډول د شاهد او حجّت ودراوه شي، دلته د قیامت په ورځ قسم خوړل د هغه د نهایت وقع او مهتم بالشأن او عظمت له حیثیته دی، او په هغه مضمون باندې یې چې قسم یاد کړی دی؛ د هغه مناسبت ښکاره دی، ځکه چې د بعث او د مجازاتو ظرف همدغه قیامت دی، والله تعالی أعلم.

وَلَا أُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ ﴿٢﴾

او قسم خورم زه په نفس ملامت کوونکي (ځان خپل لره په خرابی باندې، اګر که کوښښ یې کړی وي په نېکو کارونو. ځواب د قسم دا دی چې خامخا به ژوندی کړی شئ دویم وار).

تفسیر: محققینو لیکلي دي چې: د سړي نفس یو شی دی، خو همغه یو نفس د دریو حالاتو په اعتبار دري نومونه لري:

(۱): که نفس د علوي عالم په لوري مائل وي، او د الله تعالی په عبادت او اطاعت کې خوښي ورته حاصله وي، او د شریعت په پیروي کې یې اطمینان او تسلي په برخه وي؛ نو دې نفس ته «مطمئنّة» وایي، لکه چې د (۳۰ جزء د الفجر سورت په (۲۷) آیت) کې یې لولو: ﴿يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ * ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً﴾.

(۲): که نفس د سفلي عالم په لوري مایل وي، او په دنیوي لذّاتو، غوښتنو او خواهشونو کې مبتلا او اخته وي، او د بدی په لوري یې رغبت او د شریعت له اطاعته مباعدت خوښوي؛ نو دی نفس ته (امارة) وایي، ځکه چې هغه سړي ته امر ورکوي چې په بدو چارو کې مشغول او بوخت شي، لکه چې (د ۱۳ جزء د یوسف علیه السلام سورت په اوومه رکوع (۵۳) آیت کې) ځمونږ دغه تفسیر کې راغلي دي: ﴿وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِي ۚ إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّي﴾.

(٣): درېيم نفس کله د عالم سفلي په لوري ميلان کوي، او په شهوت او غضب کې اخته کيږي، او کله د عالم علوي په لوري رُجحان غوره کوي، او له ګردو خرابو شيانو څخه لرې تښتي، او که کومه خرابي يا تېرواته ترې وشي؛ نو په هغه باندې شرميږي، او خپل ځان ملامتوي، نو دې نفس ته «لوامة» وايي.

دلته يې په نفس «لوّامې» باندې قسم ياد کړ، چې که د چا فطرت صحيح وي؛ نو دى پخپله د خپل نفس له لوري په دنيا کې په خرابۍ او تقصيراتو باندې ملامتي اړوي، او همدا شى دى چې پخپل خورا لوى او ښه او بهتر صورت سره په قيامت کې به راڅرګندېږي.

أَيَحْسَبُ الْإِنسَانُ أَلَّن نَّجْمَعَ عِظَامَهُ ﴿٣﴾

آيا ګمان کوي (کافر) انسان چې له سره به نه ټولوو مونږ (خواره واره) هډوکي د ده (لپاره د ژوندون په ورځ د قيامت)؟.

تفسير: يعنې کافر انسان داسې خيال کوي چې تر هډوکي پورې هم مات او ګوډ او خواره واره شوي دي، او د هغو وړوکي بخرکي هم په خاورو او نورو کې ګډوډ شوي دي، نو ښه، اوس به هغه څرنګه يو ځاى کيږي؟ او بيا به په څه ډول سره جوړ او پيوندېږي؟ داسې خو ډېر سخت او محال ښکاري، داسې نه ده چې مونږ به جمع نه کړو خواره واره شوي هډوکي د ده.

بَلَىٰ قَادِرِينَ عَلَىٰ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُ ﴿٤﴾

هو ! (بلکه جمع به يې کړو) حال دا چې قادر يو مونږ په دې باندې چې برابر ټول کړو هډوکي او بندونه د ګوتو د ده.

تفسير: يعنې مونږ خو د ګوتې بندونه هم جوړولى شو، د بندونو تخصيص ښايي د دې لامله وي، چې دا د بدن له اطرافو څنې دى، او د هر څيز تکميل د هغه په اطرافو باندې کيږي، لکه چې ځمونږ په محاورو کې هم په داسې مواردو کې داسې ويلى کيږي چې: ځما بندونه خوږيږي، او له هغه څخه مراد ګرد بدن وي، بله دا چې په بندونو کې سره د هغو وړوکي توبه د صنعت رعايت زيات دى، او عادتاً ډېر سخت او نرى کار دى، نو ځکه هغه څوک چې په سخت کار باندې قادر وي؛ نو هغه په آسان کار باندې په اولى طريقه سره قادر دى، او يا مراد دا دى چې: مونږ پدې قادر يو چې د ده ګوتې د خپړې او د خنګرې په څېر وګرځوو، چې بيا ترې هغسې فائدې نشي اخيستلى، چې اوس يې ترې اخلي، ځکه چې هره ګوته بېله بېله ده.

بَلْ يُرِيدُ الْإِنسَانُ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُ ﴿٥﴾ يَسْأَلُ أَيَّانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ ﴿٦﴾

بلکه اراده لري (کافر) انسان چې دروغ ووايي (په هغه څيز باندې چې) مخ کې د ده دى (له قيامت او حسابه). پوښتنه کوي (کافر انسان استهزاءً چې) کله به وي (ورځ د) قيامت؟.

تفسير: يعنې هغه خلق چې له قيامت څخه انکار کوي، او دويم ځلي ژوندون محال ګڼي؛ د هغه سبب دا نه دى چې دا خبره ډېره مشکله ده، او د الله تعالى کامل قدرت او ننبې ښکاره نه دي، بلکه بنې آدم غواړي چې د قيامت له راتګه پخوا پخپل راتلونکي عمر کې چې پاتې دى بالکل بېباک او بې پروا شي، او په فسوقو او فجورو کې مشغول پاتې وي، نو ځکه له داسې خيال څخه يې زړه تل په ډډه ګرځي، چې ترې عيش منغص نشي، او په لذّت کې يې څه خلل ونه لويږي، بلکه د استهزاء او تعنّت او د سپين سترګى له مخې پوښتنې کوي چې ښه خانه ! هغه ستاسې قيامت به کله راځي؟ که په رښتيا سره راتلونکى وي؛ نو مياشت او کال او نېټه يې په ښکاره ډول سره راوښيه !.

فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ۝٧ وَخَسَفَ الْقَمَرُ ۝٨

کله چې خړې، متحيّرې شي سترګې له هيبته. او توره شي سپوږمۍ (رڼا يې لاړه شي).

تفسير: يعنې د حيرت او وېرې لامله يې سترګې خړې پاتې شي، او لمر به هم سر ته ډېر نژدې راشي، او سپوږمۍ يې نوره شي، سپوږمۍ يې ځکه جلا ذکره کړه، چې عربو د قمري حساب لامله هغې ته په ډېر زيات اهتمام سره کتل، او د هغې له احواله به تل خبر وو.

وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۝٩ يَقُولُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ الْمَفَرُّ ۝١٠ كَلَّا لَا وَزَرَ ۝١١ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمُسْتَقَرُّ ۝١٢

او جمعه شي لمر او سپوږمۍ (له طرفه د مغربه په قيامت کې، يا جمع شي په توروالي کې په تلو د رڼا د دواړو سره، يعنې په بې نورۍ او تت والي کې به دواړه سره شريک او مله وي). نو وبه وايي (کافر) انسان په دغه ورځې کې: چېرته ځای د تېښتې شته؟. (نه دی مناسب طلب د تېښتې) نشته ځای د پناه. خاص رب ستا ته په دغې ورځې کې ځای د قرار د خلقو دی (نو حساب به ورسره وکړی شي، او جزاء به ورکړه شي).

تفسير: يعنې اوس خو وايي چې هغه ورځ چېرې ده؟ او په هغه وخت کې به له وېرې بد حواس کيږي، او داسې به وايي چې نن زه چېرې وتښتم؟ او په کوم ځای کې پټ شم؟ نو داسې ارشاد به کيږي: چې نن نه د تښتېدلو موقع ده، او نه د پوښتنې وخت، نن هيڅ يو طاقت هم تاسې نشي خلاصولی، اونه پناه درکولی شي، نن ګرد د خپل پروردګار په مخ کې حاضريږي، او د هغه د عدل او انصاف په مخ کې ودريږي، او هغه هره فيصله چې وغواړي؛ د هر چا په حق کې يې کوي.

يُنَبَّأُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ۝١٣

خبر به کړ شي انسان په دغې ورځې (د قيامت) کې په هغو (اعمالو) چې مخ کې يې ليږلي دي (نېک وي که بد) او (په هغو اعمالو چې) وروسته يې پرې ايښي وي (نېک وي که بد).

تفسير: يعنې ګرد پخواني او وروستني اعمال ښه وي که بد وي؛ هغه ته ورځرګندېږي (ښکارېږي)، او پرې پوهيږي.

بَلِ الْإِنسَانُ عَلَىٰ نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ ۝١٤ وَلَوْ أَلْقَىٰ مَعَاذِيرَهُ ۝١٥

بلکه انسان په ځان خپل باندې حجّت لېدونکی شاهد دی. اګر که وړاندې کړي عذرونه خپل (قبول به نشي).

تفسير: زياترو مفسرينو د دې تعلّق له ﴿يُنَبَّأُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ﴾ الآية ـ سره اخيستی دی، يعنې په ورښوولو باندې هم موقوف نه دی، انسان به پخپل احوالو باندې پخپله مطلع وي، که څه د طبيعت په اقتضاء سره دوی هلته هم بهانې جوړې کړي، او راز راز حيلې وروړاندې کړي، لکه چې کافران به وايي: ﴿وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ﴾ بلکه دلته په دنيا کې هم هغه انسان چې د هغه ضمير بالکل مسخ شوی نه وي؛ پخپل حال باندې په ښه ډول سره پوهيږي، اګر که د نورو په مخ کې حيلې او بهانې جوړې کړي، او د هغه به مخالفت کې ډېر کوښښ وکړي.

لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ ﴿١٦﴾ اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ ﴿١٧﴾ فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ ﴿١٨﴾ ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهٗ ﴿١٩﴾

مه خوځوه په دې (قرآن) سره (ای محمده ! پخوا له وحي) ژبه خپله چې تعجيل به کوې په دې (قرائت سره). بېشکه پر مونږ باندې دي جمع کول يې (په سينه ستا کې) او لوستل يې (په ژبه ستا). بيا مو کله چې ولوست دا؛ نو متابعت کوه ته د لوستلو د ده (غوږ ورته نيسه). بيا بېشکه په مونږ باندې دي ښکاره بيانول د هغه (په اعتبار د فهم سره).

تفسير: کله چې به جبريل عليه السلام د الله تعالى له لوري د قرآن وحي راوړه، د جبريل عليه السلام له لوستلو سره به يو ځای ځمونږ رسول اکرم صلى الله عليه وسلم هم هغه لوسته، چې ژر يې ياد او زده يې کړي، او د جبريل عليه السلام له تللو څخه وروسته وحي يې په ښه ډول په ياد پاتې وي، مګر په دې صورت کې دوی ته ډېر تکليف پېښېده، کله به چې دوی هغه ږومبی کلمه لوستله؛ دويمه کلمه به د دوی په فهم کې په ښه ډول سره نه راتله، او د هغو په پوهېدلو کې به هم دوی ته لږ ډېر دقّت پېښېده، نو ځکه الله تعالى وفرمايل چې: په دې وخت کې ستا د ژبې د خوځولو او لوستلو هيڅ ضرورت نشته، تاسې بالکل د زړه له کومې د وحي اورېدلو ته متوجه شئ !، او داسې انديښنه مه کوئ چې دا به مې نه يادېږي، او بيا به يې ځرنګه ولولم؟ او خلقو ته به يې په څه ډول وپوهوم؟ د هغو ګردو تورو ستاسو په تېټر (سينه) کې حرف په حرف ټولول او ستاسې له ژبې څخه د باندې راايستل، او په خلقو يې لولول ځما کار دی، کله چې پرښته پاک قرآن ځما له لوري تاسې ته ولولي؛ نو تاسې چپ اوسئ !، پوه او ښه يې واورئ !، د هغه اورېدل، د هغه يادول، او د هغه علومو او معارفو ورونه درخلاصول، او ستاسې له ژبې څخه نورو ته د هغه رسول، او روښانول؛ دا ګرد ځمونږ له کارونو ځنې دي، وروسته له دې څخه رسول الله صلى الله عليه وسلم له جبريل عليه السلام سره يو ځای لوستل پرېښودل.

كَلَّا بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَتَذَرُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿٢١﴾

نه دي داسې (لکه چې انکار کوي کفّار له بعثه)، بلکه خوښوئ تاسې ځغلېدونکې (ژر فاني کېدونکې دنيا). او پرېږدئ تاسې آخرت (چې باقي او وروسته راتلونکی دی، او د هغه لپاره هيڅ عمل نه کوئ).

تفسير: يعنې ستاسې دا د قيامت او د نورو حقائقو انکار کول هيڅ يو په کوم يوه صحيح دليل باندې مبني نه دي، بلکه د دې سبب د دنيا انهماک دی، کله چې دنيا نقدي او ژر رسېدونکی شی دی؛ نو ځکه يې تاسې غواړئ، آخرت تاسې پور ګڼئ او پرېږدئ يې، او وايئ چې: د هغه رارسېدل لري دي.

وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾

ځينې مخونه (يعنې د مؤمنانو به) په دغې ورځې (د قيامت) کې ښايسته تازه روښانه وي. خاص ذات د رب خپل ته به کتونکې وي.

تفسير: دا د آخرت بيان دی، يعنې د مؤمنانو څېرې به په دې ورځې کې ډېرې روښانه ځلېدونکې تر او تازه او ډېرې خوښې او بشاشې وي، او د دوی سترګې به د حقيقي محبوب په لقاء او کتلو سره رنې وي، له قرآنکريم او متواترو احاديثو ځنې په يقيني ډول سره معلوم شوي دي چې په آخرت کې به د الله تعالى ليدنه وي، خو ګمراهان له دې څخه منکر دي، ځکه چې دا نعمت د هغوی په برخه کې نه دی.

وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍۭ بَاسِرَةٌ ۙ﴿۲۴﴾ تَظُنُّ اَنْ يُّفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ؕ﴿۲۵﴾ كَلَّآ اِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ۙ﴿۲۶﴾

او ځينې مخونه (يعنې د کفّارو) په دغې ورځې (د قيامت) کې به تريو بدڅېره وي. يقين به کوې چې کاوه شي، واقع کيږي په دغو (مخونو) باندې دوی ته بلا لويه چې ماتوونکې وي هډوکي د شا لره. نه ده داسې (چې دنيا خوښوي پر آخرت) کله چې ورسيږي (سا) هډوکي د ستوني ته.

تفسير: يعنې باور لري چې هغه ناکاره معامله کېدونکې ده، او هغه عذاب د ګاللو دی چې بالکل به ملا ماتوونکی وي.

﴿كَلَّآ اِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ﴾ «نه ده داسې چې دنيا خوښوي پر آخرت، کله چې ورسيږي ساه هډوکي د ستوني ته»، يعنې آخرت لرې مه ګنئ، ځکه چې موت د دې سفر ړومبنی منزل دی، چې هغه ډېر نژدې له همدې ځايه د نورو منزلونو په تللو باندې شروع کيږي، تر څو چې وروستني منزل ته ورسيږي، ګواکې د هر سړي مرګ هغه لره د لويې ورځې (قيامت) يوه وړوکې نمونه ده، هر کله چې د مريض روح ګرد سره غونډ شي، او چنغړک هډوکي د ټټر او ورمېږ ته ورسيږي، او سا يې په مرۍ کې ونښلي؛ نو وپوهېږه چې د آخرت منزل يې شروع شو.

وَقِيْلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ۙ﴿۲۷﴾ وَّظَنَّ اَنَّهُ الْفِرَاقُ ۙ﴿۲۸﴾

او وبه ويلی شي (يعنې وبه وايي هغه څوک چې چاپېر له مريضه دی) څوک دی دم کوونکی (په هغه رنځور باندې چې جوړ شي، او روح يې بېرته ور وګرځي)؟. او يقين وکړي (هغه مريض) چې بېشکه په ده (باندې راغلی) دی وخت د فراق جدايي (له دنيا او خپلوانو).

تفسير: د داسې مأيوسۍ په وخت کې د طبيبانو او ډاکټرانو له لاسه هيڅ شی نه وي پوره، کله چې خلق له ظاهري علاج او تدبير ځنې عاجز شي؛ نو د دم او دعاء په فکر کې لويږي، او يو له بل سره وايي: «خانه ! کوم داسې ښه سړی راولئ، چې په دې رنځور څه دم او دعاء وکړي.

﴿وَّظَنَّ اَنَّهُ الْفِرَاقُ﴾ «او يقين وکړي هغه محتضر چې بېشکه په ده باندې راغلی دی وخت د فراق جدايي له دنيا او خپلوانو»، يعنې مړ کېدونکی به وپوهيږي چې بېشکه په دی اوس له ګردو عزيزانو او اقاربو او محبوبو او مألوفو شيانو ځنې بېلېدونکی دی، يا يې دا مطلب چې سا يې له بدنه تلونکې ده.

وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ ۙ﴿۲۹﴾

او تاويږي يوه پُنډۍ (د ده) له بلې پُنډۍ (د ده) سره (له هيبته د مرګ).

تفسير: يعنې په ځينو اوقاتو کې د موت د سکراتو لامله يوه پُنډۍ له بلې پُنډۍ سره لګيږي، او هم د بدن د لاندنۍ برخې ځنې د روح د تعلق له منقطع کېدلو څخه وروسته د پنډيو خوځول او يوه له بلې ځنې بېلول به د ده په واک کې نه پاتې کيږي، نو ځکه يوه پُنډۍ له بلې پُنډۍ څخه بېواکه لويږي، ځينې اسلاف وايي چې: د عربو په محاورو کې «ساق» کنايه ده له سخت مصيبت څخه، نو په دې تقدير به د دې آيت ترجمه داسې کيږي: «يوه سختي به له بلې سختۍ سره يو ځای کيږي»، ځکه چې مړ کېدونکي ته په دې وخت کې دوه سختې وروړاندې کيږي، يوه دا چې له دنيا ځنې داسې درومي چې مال او اسباب، اهل او عيال، کور او کهول، جاه او حشم ګرد ځنې پاتې کيږي، غليمان پرې خوښيږي، او پيغورونه ورکوي، او خپلوان يې خفه کيږي، او په رنځ او خفګان کې لويږي، بله يې له دې ځنې ډېره لويه او وېروونکې ده، چې هغه د قبر او آخرت هسې پېښې او احوال دي چې د هغه کيفيت په بيان نشي راتلی، يعنې سختۍ د دنيا د آخرت له سختيو سره يو ځای کيږي.

إِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾

په لوري د رب ستا په دغې ورځې کې ورتله دي (د ټولو مخلوقاتو لپاره د مجازاتو).

تفسير: يعنې د آخرت د سفر ابتداء له دې ځای ځنې ده، ځواکې اوس د بنده رابنکوول د خپل پروردګار په لوري شروع شو.

فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلّٰى ﴿٣١﴾ وَلٰكِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿٣٢﴾ ثُمَّ ذَهَبَ إِلٰى أَهْلِهِ يَتَمَطّٰى ﴿٣٣﴾

بيا يې يقين ونه کړ (په مؤمن به باندې)، او نه يې لمونځ وکړ. مګر دروغجن يې وشمېره (قرآن لره)، او مخ يې وګرځاوه (له ايمانه). بيا لاړ اهل خپل ته (له مجلس نه) په تکبّر سره.

تفسير: يعنې د رښتين ګڼلو او باور لرلو په ځای پيغمبران دروغجن شمېرې، او د لمانځه کولو او د الله تعالى په لوري د متوجّه کېدلو په ځای تل له هغه ځنې غاړه غړوي، او په دې باندې يواځې اکتفاء نه کوي، بلکه په خپل تکبّر او غرور د خپلو متعلّقينو او خپلوانو په لوري ځي، او داسې رابنکاروي چې لکه کوم ښه لوی کار او ډېره مېړانه او د پوهنې کار يې کړی دی.

أَوْلٰى لَكَ فَأَوْلٰى ﴿٣٤﴾ ثُمَّ أَوْلٰى لَكَ فَأَوْلٰى ﴿٣٥﴾

وړ لايقه ده تاته (ای کافر انسانه هغه شی چې بد يې بولې سختي د مرګ). پس وړ لايقه ده (هغه شی چې بد يې بولې چې سختي د قبر ده). بيا وړ لايقه ده تا لره (هغه شی چې بد يې بولې چې سختي د ورځې د قيامت ده)، پس وړ لايقه ده (تا لره هغه شی چې بد يې بولې چې همېشه عذابېدل ستا دي په دوزخ کې).

تفسير: يعنې ای بدبخته ! اوس ستا د هلاکت، افسوس او کمبختۍ وار دی، يو ځلې نه بلکه څو څو ځلې اوس پاتې خرابي پر خرابۍ او تباهي پر تباهۍ ده، پرته له تانه به بل هيڅوک د الله تعالى د نوې نوې سزا وړ او مستحق نه وي.

أَيَحْسَبُ الْإِنْسَانُ أَنْ يُتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾

آيا ګمان کوي (کافر) انسان چې پرې به ښود شي دی چټي (بېکاره) بې قيده مهمله بېکاره.

تفسير: يعنې آيا بنې آدم داسې ګڼي چې دی به همداسې چټي بېکاره او مهمل پرې ښود شي؟ او د امر او نهي هيڅ يو قيد به په ده باندې نه وي؟ يا له مړينې څخه وروسته به بيا نه ژوندی کيږي؟ او له ده څخه به د نېکيو او د بديو ګرد شمېر نه اخيست کيږي؟ او هيڅ حساب او کتاب به ورسره نه کيږي.

أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِنْ مَنِيٍّ يُمْنٰى ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوّٰى ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنْثٰى ﴿٣٩﴾ أَلَيْسَ ذٰلِكَ بِقٰدِرٍ عَلٰى أَنْ يُحْيِيَ الْمَوْتٰى ﴿٤٠﴾

آيا نه وو دغه (انسان اول) يو څاڅکی له مني څخه چې تويوه شي (اچوه شي پر رحمونو د ښځو کې)؟. بيا وو دی يوه ټوټه د وينو؛ نو پيدا کړ الله (اندامونه يې) پس برابر کړ (صورت يې او روح يې پکې وپوکول). نو پيدا يې کړ له هغه (اوبو د مني) څخه جوړه (دوه صنفه) نارينه او ښځه. آيا نه دی دغه (ذات) قدرت لرونکی کوونکی د دغو افعالو، قادر په دې باندې چې ژوندي کړي مړي؟ (بلکه ښه قادر دی).

تفسير: يعنې انسان له نطفې ځنې د غوټه شويو وينو په شکل ګرځي، بيا الله تعالى د دې د پيدايښت ګرد مراتب پوره کوي، او انسان ترې جوړوي، او ټول ظاهري اعضاء او باطني قوتونه يې برابروي، او د يوې بېځانې نطفې ځنې يو عاقل انسان جوړوي، او هم له همدې نطفې ځنې دوه ډوله (قسمه) بني آدم پيدا کوي، چې د دوی د هر يو ظاهري او باطني خصوصيات سره بېل وي، آيا هغه مطلق قادر چې له اوله يې ګرد خلق په داسې يو حکمت او قدرت سره پيدا کړي وي؛ بيا په دې باندې قادر نه دی چې دوی بيا راژوندي کړي؟ (سبحانک اللهمّ فَبلی !»، پاک دی ستا ذات ای الها !، ولې به يې نه پيدا کوې؟ ته بېشکه قادر يې.

تمّت سورة القيامة بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ الدَّهْرِ

«د (الدّهر) سورت مکّي دی، (۳۱) آیته (۲) رکوع لري، په تلاوت کې (۷۶) او په نزول کې (۹۸) سورت دی، وروسته د (الرّحمان) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْـًٔا مَّذْكُوْرًا ①

آیا راغلی دی (یعنې په تحقیق سره راغلی دی) پرانسان څه وخت له زمانې څخه چې نه وو دی یو شی یاد کړی شوی (په یوه نامه سره).

تفسیر: بېشکه پر انسان باندې داسې یو وخت تېر شوی دی چې هیڅ نوم او نښه یې نه وه، بلکه یو غیر مذکور په انسانیت څیز وو، او یو جز وو له اجزاوو د عناصرو او د نطفې، بیا یې څومره مدّت طي کړ چې د نطفې په شکل کې راووت.

اِنَّا خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ اَمْشَاجٍ ۖ

بېشکه پیدا کړی دی مونږ انسان له نطفې څخه چې ګډوډه شوې ده (د نر او د ښځې).

تفسیر: یعنې د نارینه او د ښځې د دوو ډولو اوبو ځنې یې پیدا کړ.

تنبیه: د (امشاج) معنی مخلوط دی، نطفه د هغو غذاوو خلاصه ده، چې له مختلفو شیانو ځنې روغه ده، نو ځکه د ښځې له اوبو څخه پرته (علاوه) یوائې همغه یو اوبو ته هم (امشاج) وایه شي، او پیدا کړ مونږ دغه انسان لره په دغه حال کې چې:

نَّبْتَلِيْهِ فَجَعَلْنٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ② اِنَّا هَدَيْنٰهُ السَّبِيْلَ اِمَّا شَاكِرًا وَّاِمَّا كَفُوْرًا ③

ازمایو یې، نو ومو ګرځوو مونږ دغه (انسان) اورېدونکی او لیدونکی. بېشکه مونږ ورښوولې ده دغه (انسان) ته سمه لاره (په لېږلو د رسولانو او په دلائلو د عقل سره)، یا به وي دی شکر کوونکی او یا به وي دی ناشکره.

تفسیر: یعنې له نُطفې ځنې د وینې غوټه او له هغه ځنې یې د غوښې یوه ټوټه جوړه کړه، همدا راز له څو څو ځلې اړولو او ګرځولو څخه یې هغه دې درجې ته ورساوه چې دی پخپلو غوږونو سره اوري، او په سترګو سره وینې، او له هسې قوّتونو څخه کار اخلي، چې بل کوم حیوان له هغو ځنې کار نشي اخیستی، ګواکې نور ګرد د ده په مخ کې کاڼه او راښده دي.

تنبیه: د ﴿نَّبْتَلِيْهِ﴾ معنی اکثرو مفسّرینو (امتحان) او ازموینه اخیستې ده، د بني آدم له پیدایښته دا غرض دی چې دی د الله تعالی په احکامو، امر، نهي او نورو مخاطب شي، او امتحان ترې واخیست شي، او ولیده شي چې دی تر کومې اندازې پورې د خپل الله تعالی د احکامو تعمیل او خپل اخلاص او وفاداري څرګندوي؟ نو ځکه هغه ته یې د اورېدلو، پوهېدلو اولیدلو قوّتونه وروښښل، چې پر هغوی باندې د شرعي تکالیفو مدار دی.

﴿إِنَّا هَدَيْنَٰهُ﴾ الآية - يعني ړومبى يې د اصلي فطرت او پيدايشي عقل او پوهې ځنې، بيا يې د عقليه او نقليه دلائلو په وسيله هغه ته د نېکۍ لاره وروښوده، چې د دې ښوونې اقتضاء داسې ده چې ښايي ګرد انسانان په يوه سمه لاره باندې لاړ شي، خو د شاوخوا د حالاتو لامله او د خارجي عواملو اغېزې او د نورو عوارضو له سببه ګرد په يوه لاره باندې پاتې نشول، ځينو الله تعالى ومانه، او حق يې وپېژنده، او ځينو ناشکرۍ او ناحقۍ ته ملا وتړله، وروسته له دې نه الله أكرم شأنهُ وأعظم برهانُه د دې دواړو د پاى او انجام ذكر دغسې فرمايي:

إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَا۠ وَأَغْلَٰلًا وَسَعِيرًا ﴿٤﴾

بېشكه مونږ تيار كړى مو دى كافرانو ته ځنځيرونه او طوقونه او تود اور (لمبې وهونكى چې تل به په كې سوځي).

إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ﴿٥﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ

بېشكه ابرار نېكان څښي (په جنّت كې) له جامونو د شرابو څنې چې وي ګډه له هغو سره كافور. چينه چې څښي به له هغې څخه (نېک) بندګان د الله.

تفسير: يعني د شرابو هسې جامونه به څښي چې لږ څه كافور به په كې ګډ وي، دا كافور د دې دنيا د كافورو په شان نه دي، بلكه د جنّت د يوې خاصې چينې نوم دى، چې د الله تعالى له لوري په خاص ډول د الله تعالى مخصوصو او مقرّبو بندګانو ته د هغه له اوبو څخه ورکولى کيږي، ښايي چې د دې سوړوالى ښه رائحه او وړم، مفرح، خاصيت، او د تک سپين رنګ لامله هغه ته كافور ويلى شي.

يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا ﴿٦﴾ يُوفُونَ بِٱلنَّذْرِ

چې بيايي به (مؤمنان) دغې (چينې) لره (هر چېرته چې يې خوښه وي په ښولو سره). وفاء كوي (ابرار) په (هغه) نذر سره (چې يې واجب كړى وي په طاعت د الله كې، پر ځانونو خپلو باندې).

تفسير: يعني دا چينه د هغو بندګانو په واک او اختيار كې ده، چې په هر لوري دوى اشاره وكړي؛ د دې د اوبو ويالې به همغه لوري بهيږي، ځينې وايي چې: د دې چينې اصلي منبع به د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم په لوړه مانۍ كې وي، چې له هغه ځايه به د ګردو انبياوو، اولياوو، صلحاوو او مؤمنينو مانيو ته د هغې ويالې وبهيږي والله أعلم، وروسته له دې نه الله أكرم شأنُه وأعظم برهانُه د ابرارو د خصائلو داسې بيان فرمايي:

﴿يُوفُونَ بِٱلنَّذْرِ﴾ - يعني هغه نذرونه چې پخپلو ځانونو باندې يې منلي وي؛ اداء كوي يې، ښكاره ده: كله چې پخپل ځان باندې لازم كړى ځيز پوره كاوه شي؛ نو هغه خبرې چې د الله تعالى له لوري لازمې شوي دي څرنګه به پرېښودى شي؟.

وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُۥ مُسْتَطِيرًا ﴿٧﴾

او ويريږي (ابرار) له هغې ورځې چې شر يې ښكاره او تيت (څرګند) دى.

تفسير: يعني د دې ورځې سختي او خرابي به درجه په درجه پر ټولو عامه، او ګردو لره نيوونكې وي، او هيڅوک به په كلي ډول له هغه ځنې محفوظ نه وي، الا من شاء الله !.

وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ﴿٨﴾

او (ابرار) ورکوي طعام خواړه پر محبّت مينې د دغه (الله يا د طعام) مسکين اړ (مجبور) ته، او يتيم پلار مړي ته، او اسير بندي ته.

تفسير: يعنې د الله تعالى په محبّت کې خپل طعام او خواړه سره له دې چې دى پخپله ورته اړ او محتاج دى، او ډېر خواهش يې ورته کيږي؛ په ډېر اخلاص، شوق او ذوق سره مسکينانو، يتيمانو، او بنديانو ته يې ورکوي.

إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا ﴿٩﴾ إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا ﴿١٠﴾

(وايي ابرار) بېشکه چې مونږ طعام خواړه درکوو تاسې ته خاص د الله تعالى د مخ لپاره (چې ويې وينو، او د هغه رضا مو په نصيب شي)، نه غواړو مونږ له تاسې څخه جزاء، بدل، او نه شکر ايستل. بېشکه مونږ ويريږو له ربه خپله له عذابه د ورځې تريو مخې (غمجنې) ډېرې سختې تريو مخې نه.

تفسير: يعنې دا طعام او خواړه ورکوونکي به د حال په ژبې سره داسې ويونکي وي، او که چېرې مصلحت وي او لازم يې وګڼي؛ د قال په ژبې سره يې هم ويلى شي.

﴿إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ﴾ ځمونږ خواړه ورکول په دې خاطر دي چې الله تعالى ووينو، او د هغه رضا او ثواب مو په برخه شي، له تاسو څخه څه بدله، عوض نه غواړو، او نه درڅخه د شکر ايستلو او د مننې غوښتونکي يو.

﴿إِنَّا نَخَافُ﴾ «بېشکه مونږ ويريږو له ربه خپله له عذابه د ورځې تريو مخې غمجنې، ډېرې سختې تريو مخې نه».

فَوَقَاهُمُ اللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَقَّاهُمْ نَضْرَةً وَسُرُورًا ﴿١١﴾

نو وبه ساتي دوى لره الله (په سبب د حسناتو د دوى) له شره سختى د دغې ورځې، او ور به کړي دوى ته تازګي او حسن د مخونو (او خوشالى د زړونو).

تفسير: يعنې له هغه شي ځنې چې دوى ډېر ويرېدل؛ الله تعالى دوى له هغه ځنې محفوظ او مأمون وساتل، او د هغوى مخونو ته يې ښايست او تازګي، او زړونو ته يې خوښي او سرور ورعطاء کړ.

وَجَزَاهُم بِمَا صَبَرُوا جَنَّةً وَحَرِيرًا ﴿١٢﴾

او جزاء به ورکړى دوى ته (الله) په سبب د صبر د دوى جنت او (جامې) ورښميني.

تفسير: يعنې کله چې دې خلقو د دنيا پر تنګسى او سختيو باندې صبر کاوه، او له ګناهونو او معاصيو ځنې يې ځانونه ساتل، او په طاعت او عبادت کې قائم اوسېدل؛ نو ځکه الله تعالى د هغوى د آرام او راحت لپاره دوى ته د جنّت ښه نعماء، اعلى باغونه، او فاخره لباسونه مرحمت کړل، اوس الله اکرم شأنُه وأعظم برهانُه د دغو جنّتيانو يو بل ښه وضعيت داسې بيان فرمايي:

مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا ﴿١٣﴾

حال دا چې تکيه کوونکي به وي په هغه (جنّت) کې پر تختونو باندې (د باچايانو او ټولواکانو په ډول)، نه به وينې دوى هلته شمس لمر (ګرمي) او نه زمهرير (ساړه).

تفسیر: یعنې د جنّت موسم به ډېر معتدل او برابر وي، نه د تودوخې او نه د یخنۍ او نه به نور څه رښ او تکلیف هلته وي.

وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلٰلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا تَذْلِيلًا ﴿١٤﴾

حال دا چې نژدې به وي پر دوی باندې سیوري (د ونو) د هغه، تابع او مسخّرې تیتې کړی شوي به وي مېوې د هغه په تابعداریٔ مسخّر بدلو تیتېدلو سره (چې شوکول به یې اسان وي).

تفسیر: یعنې د ونو څانګې د خپلو مېوو سره دوی ته ډېرې نژدې کیږي، او د هغوی مېوې به ورځورندې او د دوی په واک کې به وي، او جنّتیان په هر حالت او هر ځای کې چې وغواړي، اعمّ له دې څخه چې ولاړ وي یا ناست یا ملاست، بې له تکلّفه هغه ټولولی او شوکولی شي.

وَيُطَافُ عَلَيْهِمْ بِآنِيَةٍ مِّن فِضَّةٍ وَّأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا ﴿١٥﴾ قَوَارِيرَا مِن فِضَّةٍ

او ګرځولی به شي پر دغو (ابرارو) باندې (په دغه جنّت کې د) شیشو جامونه له سپینو زرو او ګلاسونه صراحي چې وي به (دغه ظروف) په شان د شیشو. هسې شیشې چې له سپینو زرو به وي (صاف به وي د شیشو په شان، چې ظاهر به یې له باطن او باطن به یې له ظاهره ښکاري).

تفسیر: یعنې دا ظروف لوښي به په اصل کې د سپینو زرو څخه جوړ وي، او ډېر سپین بې داغه او خوښي ښوونکي، او داسې صاف او شفاف ا و ځلېدونکې به وي، چې لکه شیشي غوندې به ښکاري، او د هغه د منځ شیان به له باندې څخه له لرې لیده کیږي.

قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا ﴿١٦﴾

په اندازه کړي به وي هغه (جامونه ساقیانو د جنّت جنّتیانو ته) اندازه کول.

تفسیر: یعنې یو جنّتي هومره چې څښلو ته ضرورت لري، او زړه یې غواړي؛ په هغه مېچ او اندازه سره به سم او برابر په هغه کې شراب وي، چې نه به ترې لږیږي، او نه به ترې زیاتیږي، یا په هره اندازه چې جنتیان پخپلو زړونو کې ټاکلې او ګرځولې وي؛ بې له تزییده او بې له تنقیصه سم د دوی له غوښتنې سره ورته وړاندې کیږي.

وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ﴿١٧﴾

او ورځښول کیږي به جنتیانو ته په جنّت کې جامونه د شرابو چې وي به ګډه له هغه سره زنجبیل.

تفسیر: یعنې د شرابو جام یو هغه وو چې د هغه ګډه جنتي کافور دی، دویم یې هغه دی چې زنجبیل (سونډ) ورسره ګډوي، مګر دا د دې دنیا زنجبیل او سونډ ونه ګانې شي، ځکه هغه یوه چینه ده چې «سلسبیل» نومیږي، د سونډ تأثیر تود دی، او په غریزه حرارت کې انتعاش پیدا کوي، او عرب هغه ډېر خوښوي.

په هر حال سره په کوم خاص مناسبت سره دې چینې ته «زنجبیل وایي»، د نېکانو په جامونو کې د هغه لږ څه ګډون کاوه شي، په اصل کې دا چینه لویو عالي مقامو مقرّبینو لره ده، والله أعلم.

عَيْنًا فِيهَا تُسَمّٰى سَلْسَبِيلًا ﴿۱۸﴾

چينه په دغه (جنّت کې چې) نوم يې ايښودلی شوی دی په سلسبيل سره.

تفسير: د «سلسبيل» معنی صافې بهېدونکې اوبه دي، (كذا في الموضح)، او ځکه ورته «سلسبيل» وايي چې آسانه تيريږي له حلقه، او ډېرې لذيذې او خونده وړې دي په ځښلو کې، او هر چېرته چې د جنّتي زړه وغواړوي، همغلته ورته بهيږي.

وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُخَلَّدُونَ ۚ

او ګرځي پر دغو جنّتيانو باندې هلکان تل پاتې شوي (پخپل حال).

تفسير: يعنې تل به هلک پاتې کيږي، يا به له جنّتيانو څخه هيڅ نه اخيست کيږي، او تل تر تله به د هغوی په خدماتو کې مشغول وي.

إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَنْثُورًا ﴿۱۹﴾

کله چې وويني ته دوی؛ ګڼې به هغوی (په صفايي کې) لکه مرغلرې خورې شوې.

تفسير: يعنې پخپل حسن، جمال، صفايي او ښايست سره په هر لوري ګرځي، او داسې خوش منظر معلوميږي لکه چې د ډېرو ځلېدونکيو او ښايسته مرغلرو په شان پر ځمکې باندې خواره شوي وي، او تخصيص د «منثور» لپاره د دې دی؛ چې دا ښايسته او ښې ښکاريږي له مرغلرو منظومه وو او پيلو شويو څخه.

وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا ﴿۲۰﴾

او هر کله چې وګورې ته دغه (جنّت) ته؛ نو وبه وينې ته نعمتونه (ډېر چې صفت يې کېدی نشي) او ملک باچايي لويه (لازواله چې انتهاء او زوال نه لري).

تفسير: يعنې د جنت حال او احوال څه ووايه شي، که څوک يې ووينې؛ نو ور معلوميږي چې په جنّت کې به څه عظيم الشأن نعمتونه او څومره لويه لا زواله بېمثاله باچايي يوه معمولي او ادنی جنّتي ته ور په برخه کيږي، رزقنا الله تعالی منها بمنّه وفضله.

عَالِيَهُمْ ثِيَابُ سُنْدُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ ۖ

له پاسه پر دوی باندې به کالي د نريو وربښمو وي چې شنه به وي، او د غټو وربښمو نه.

تفسير: يعنې نري او غټ دوه ډوله د وربښمو کالي به جنّتيانو ته ورکاوه کيږي.

وَحُلُّوا أَسَاوِرَ مِنْ فِضَّةٍ ۚ

او وابه غوسته شي (دوی ته) باهوګان له سپينو زرو.

تفسير: په دې سورت کې درې ځايه د سپينو زرو، د لوښيو، ګاڼو او نورو ذکر راغلی دی، په بل ځای کې د سرو زرو ذکر شوی دی، ممکن دي چې دا هم وي او هغه هم وي، ځينو ته به دا ورکاوه شي، او ځينو ته به هغه، يا به کله دا او کله به هغه ورورانديې کيږي.

وَسَقٰىهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُوْرًا ﴿۲۱﴾

او ور وبه څښي دغو (جنّتيانو ته) رب د دوی شراب طهور (څښاک نبه پاکيزه).

تفسير: يعنې له ګردو نعمتونو وروسته د شراب طهور يو جام به د حقيقي مالک له لوري ورکاوه شي، چې نه په کې نجاست وي، او نه کدورت، نه به ورسره څه درد او الم او نه به بدبويي وي، او د هغه له څښلو ځنې به زړه پاک او ګېډه صفا کيږي، له څښلو څخه وروسته له بدن څخه به داسې عرق او خولې وځي، چې د هغه وږمه او خوشبويي به د مسکو په څېر زړونه خوښوي.

اِنَّ هٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَّكَانَ سَعْيُكُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿۲۲﴾ اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ تَنْزِيْلًا ﴿۲۳﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ

(او وبه فرمايي الله دوی ته چې) بېشکه دغه (نعمتونه) وو تاسې لره جزاء بدل (د اعمالو ستاسې)، او دی سعي عمل زيار ستاسې مشکور مقبول. بېشکه مونږ همدا مونږ نازل کړی مو دی په تا باندې (ای محمده !) قرآن نازل کول. نو صبر کوه حکم د رب خپل ته (په نصرت د تا).

تفسير: يعنې د زيات اعزاز او اکرام او د زړونو د خوښې لپاره به ويلی شي چې: دا ستاسې د اعمالو بدل دی، ستاسې زيارونه مقبول او مشکور او سعي مو ومنلی شوې، د دې زېرې له اورېدلو ځنې به جنّتيان لا خوښيږي.

﴿اِنَّا نَحْنُ﴾ الآية ـ «بېشکه مونږ نازل کړی مو دی په تا باندې ای محمده قرآن نازلول، نو صبر کوه حکم امر د رب خپل ته په نصرت د تا»، چې ستا زړه مضبوط شي، او خلق ورو ورو پخپلو نبو او بدو باندې نبه وپوهيږي او معلوم يې کړي، چې جنّت د کومو اعمالو په وسيله موندل کيږي، که په داسې پوهولو سره هم ونه پوهېده، او پخپل ضد او عناد کې ټينګ پاتې شو؛ نو تاسې د خپل پروردګار په حکم باندې همغسې ټينګ ودرېږئ، او د وروستنۍ فيصلې انتظار وکړئ !.

وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْ كَفُوْرًا ﴿۲۴﴾

او مه منه خبره له دوی ځنې د هيڅ يو ګنهګار او ناشکره (چې تا بولي کفر ته).

تفسير: يعنې «عتبه» او «وليد» او د قريشو نور کفار تاسې ته دنيوي ترغيبونه درکوي، او شنه باغونه درښيي، او په دې تحريص او تطميع سره غواړي چې تاسې د تبليغ له فرضه واړوي، نو الله تعالى تنبيه فرمايي چې: تاسې د دوی په خبرو باندې مه تېروځئ، ځکه چې د ګنهګار، فاسق او ناشکر کافر له وينا منلو څخه پرته له نقصانه بل څه په لاس نه درځي، نو د داسې شريرانو او بدبختانو خبرو ته غوږ نيول نه دي پکار.

وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿۲۵﴾

او يادوه نوم د رب خپل صباح ګهيځ او بېګا مابنام.

تفسير: يعنې تل هغه پخپل زړه کې ولره !، په تېره بيا په دې دوو وختونو کې يې هرومرو يادوه !، ګردو اندېښنو علاج همدا د الله تعالى ذکر دی.

وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهُ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيلًا ﴿۲۶﴾

او په څه برخه د شپې کې نو سجده کوه هغه (الله) ته، او نسبت د پاکۍ کوه دغه (الله) ته په شپه اوږده کې (یعنې تهجّد کوه او).

تفسیر: لمونځ وکړه !، ښایي چې له دې ځنې د مغرب او عشاء لمونځونه یا به تهجّد مراد وي، که له ﴿وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهُ﴾ څخه تهجّد مراد وي؛ نو دلته به له تسبیح ځنې د هغه متبادره معنی اخیسته کیږي، یعنې د شپې له لوري علاوه پر تهجّد پر ډېرو تسبیحو او تهلیلو کې مشغول شئ !، که له ړومبي «فاسجد» ځنې د مانښام او ماسختن لمونځ مراد وي؛ نو دلته به له تسبیح څخه تهجّد مراد وي.

إِنَّ هَٰؤُلَاءِ يُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُونَ وَرَاءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيلًا ﴿۲۷﴾

بېشکه دا (خلق چې کُفّار دي) خوښوي ژر تېرېدونکې (دنیا)، او پرېږدي وروسته له ځانه ورځ سخته (د عُقبی چې د هغې لپاره څه تیاری او عمل نه کوي).

تفسیر: یعنې دا خلق که ستاسې پند او هدایت نه مني، د هغه سبب د دنیا مینه ده، کله چې دنیا یو ژر په لاس راتلونکی څیز دی، دوی هم دا غواړي، او د قیامت له درنې ورځې څخه غافل شوي دي، او هیڅ د هغه په فکر کې نه دي لویدلي.

نَحْنُ خَلَقْنَاهُمْ وَشَدَدْنَا أَسْرَهُمْ ۖ وَإِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَا أَمْثَالَهُمْ تَبْدِيلًا ﴿۲۸﴾

مونږ پیدا کړي مو دي دوی، او بیا مو مضبوط کړل پیدایښت بندونه اندامونه د دوی، او کله چې اراده وفرمایو؛ بدل به راوړو مونږ امثال د دوی (په خلقت کې) بدل.

تفسیر: یعنې اول مو تاسې پیدا کړئ، او ستاسې ګرد بندونه او اندامونه مو جوړ کړي دي، نن ځمونږ هغه قدرت نه دی سلب شوی، هر کله چې مونږ وغواړو؛ ستاسې دا موجوده ژوندون پای (انجام) ته رسوو، او همداسې یوه بله هستي بیا پیدا او ودرولی شو، یا دا مطلب که دا خلق یې ونه مني؛ نو مونږ قادر یو، هر کله چې وغواړو د دوی په ځای به نور داسې سړي راولو چې ګرد سره به مطیع او فرمانبرداران وي، او د دوی په شان به سرکشان نه وي.

إِنَّ هَٰذِهِ تَذْكِرَةٌ ۖ فَمَنْ شَاءَ اتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِ سَبِيلًا ﴿۲۹﴾

بېشکه دغه (سورت) تذکره پند دی (خلقو لره)، نو هر هغه څوک چې اراده کوي نیسي طرف د رب خپل ته لاره (په خیر او طاعت سره؛ پس ودې نیسي !).

تفسیر: یعنې په جبر او زور سره په دوی باندې خبرې منل ستا کار نه دی، د پاک قرآن په وسیله پند ورکوئ !، وروسته له دې د هر چا اختیار دی، هر څوک چې زړه یې غواړي د خپل پروردګار تر خوښۍ پورې د رسېدلو لاره دې ځان ته جوړه کړي !.

وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿۳۰﴾

او اراده نشئ کولی تاسې (د هیڅ لاره د طاعت) مګر هغه چې اراده وفرمایي الله (تاسو ته)، بېشکه الله دی (پر هر شي باندې) ښه عالم دانا ښه حکمت والا دی.

تفسیر: یعنې ستاسې غوښتنه هم پرته د الله تعالی له غوښتنې نشي کېدی، ځکه چې د بنده مشیت د الله تعالی د مشیت تابع دی، دغه الله تعالی ته ښه معلوم او ښکاره ده چې د چا استعداد او قابلیت څه قسم دی؟ نو سم له هغه سره د هغه مشیت کار کوي، بیا پاک الله هر چا لره چې اراده ولری د هدایت نو پخپل مشیت په سمې لارې باندې یې بیایي، او چا سر لره چې د ګمراهۍ اراده وکړی نو په ګمراهی کې یې پریږدي.

يُدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ وَالظّٰلِمِيْنَ اَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۳۱﴾

داخلوي (الله) هغه څوک چې اراده (د دخول یې) وفرمایي په رحمت خپل کې، او ظالمان (کافران چې دي) تیار کړی دی (الله) دوی ته عذاب ډېر دردناک.

تفسیر: یعنې د هر چا استعداد چې ښه وي؛ هغه ته به په نېکۍ باندې د تللو توفیق وروښي، او د خپل رحمت او فضل مستوجب به یې وګرځوي.

تمّت سورة الدّهر بفضل الله تعالی ومنّه وکرمه.

سُورَةُ المُرسَلَاتِ

«د (المرسلات) سورت مکي دی، پرته (علاوه) له (۴۸) آیته څخه چې مدني دی، (۵۰) آیته (۲) رکوع لري، په تلاوت کې (۷۷) او په نزول کې (۳۳) سورت دی، وروسته د (الهمزة) د سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا ﴿١﴾ فَالْعَاصِفَاتِ عَصْفًا ﴿٢﴾

قسم دی په هغو بادونو چې لېږلی شوي دي (د الله له طرفه) پی در پی پرله پسې (چې زړونه خوښوي)، (یا) قسم دی په هغو ملائکو لېږلیو شویو په نېکیو سره (چې امر او نهي دي). بیا قسم دی په هغو سخت خوځوونکیو بادونو باندې چې الوځي په زور سره، (یا) پس قسم دی په هغو ملائکو تلونکیو په حکم د الله سره ګړندي تلل.

تفسیر: یعنې اول پسته او ښه نرۍ هوا چلیږي، چې له هغې سره به د مخلوقاتو ډېر توقّعات او منافع تړلي وي، بیا لږ څه وروسته همغه یوه نرمه او پسته هوا د یوې سختې سیلۍ او طوفان جاکړ پشان به الوځي، او داسې خرابي او ورانې به راولي چې خلق به په نارو سورو شي، همدا د دنیا او د آخرت مثال وګڼئ !، ډېر داسې کارونه دي چې خلق هغه اوس مفید او نافع ګڼي، او پر هغه باندې د دوی لوېې هیلې تړلې وي، او ډېر توقّعات تړې لري، خو همغه کار کله چې د قیامت په ورځ پېښل اصلي او ډېر سخت او ویروونکي صورت سره راښکاره شي؛ نو ګرد خلق به تړې پناه غواړي.

وَالنَّاشِرَاتِ نَشْرًا ﴿٣﴾ فَالْفَارِقَاتِ فَرْقًا ﴿٤﴾

قسم دی په هغو خواره کوونکیو بادونو باندې (باران لره) پورته کول خورول. بیا (قسم دی) په (هغو ملائکو یا آیتونو د قرآن چې) جدایي کوي (په منځ د حق او باطل کې) جدایي کول.

تفسیر: یعنې پر هغه هواوو باندې قسم دی چې بخارات او نور له ځانه سره راپورته کوي، او وربڅې پیدا کوي، او په فضاء کې یې خوروي، بیا په هر هر ځای کې چې د هغوی رسونه مقصود وي؛ د الله تعالی په امر هغه هم هغلته رسوي او ویشي یې، او له وریا (باران) څخه وروسته بیا وربڅې یوه لوري بل لوري ته خوروي، هوا یوائې له وربڅې سره مخصوصه نه ده، بلکه د هغه عمومي خاصیت دا دی چې د ګردو شیانو کیفیات لکه ښې او بدې وږمې او نور خوروي، او د هغوی لطیف اجزاء ځنې بېلوي، او له ځان سره یې وړي، او یو ځیز له یوه ځایه جلا کوي، او له بل سره یې لګوي.

فَالْمُلْقِيَاتِ ذِكْرًا ﴿٥﴾ عُذْرًا أَوْ نُذْرًا ﴿٦﴾

پس قسم دی په هغو (پرښتو) چې راښکته کوونکې د ذکر، وحي، پند دي. لپاره د لرې کولو د عذر (الزام د مؤمنانو) او لپاره د ویرولو (الزام د کافرانو).

تفسیر: شاه عبد العزیز (رحمه الله) له ﴿فَالْمُلْقِيَاتِ ذِكْرًا﴾ څخه هم هوا مراد کړې ده، ځکه چې د وحي غږ د خلقو غوږونو ته رسونه هم د هوا کار دی.

تنبیه: «المرسلات، العاصفات، الناشرات، الفارقات، الملقیات» د پنځو واړو مصداق ځینو هواوې ټاکلې (مقرر کړې) دي، ځینو پرښتې ځینو پیغمبران او ځینو مفسّرینو لکه چې ړومبنیو څلورو څخه هواوې مراد کړي دي، او له پنځمې ځنې یې پرښتې اخیستې دي چې په ترجمه کې ښکاره ده.

شاه عبد القادر (رحمه الله) لیکي چې: «له وحي څخه د کافرانو د دغه الزام لرې کول منظور دي، چې د سزا په وخت کې ونه وایي چې مونږ نه وو خبر، او هغو کسانو ته چې په برخه کې یې ایمان دی؛ د وېرې اورول دي چې ایمان راوړي».

إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَاقِعٌ ۝٧

بېشکه څه وعده چې له تاسې سره کړی شوې ده (د قیامت) خامخا واقع کېدونکې ده.

تفسیر: یعنې د قیامت او د آخرت د حساب او کتاب او جزاء او سزا وعده هرومرو پېښېدونکې ده.

فَإِذَا النُّجُومُ طُمِسَتْ ۝٨ وَإِذَا السَّمَاءُ فُرِجَتْ ۝٩

نو کله چې ستوري تور شي (رڼا نور یې ورک شي). او کله چې اسمان څېرې کړ شي.

تفسیر: یعنې ستوري محوه بې رڼا خړپړ کیږي، اسمان به توتې توتې را لویږي، او د څیریدلو له وجې به په هغه کې ورونه او کړکۍ څرګندېږي.

وَإِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ ۝١٠

او کله چې غرونه والوځولی شي (ویستل شي له ځایونو خپلو نه) او روان شي.

تفسیر: یعنې د پاڅوندو په شان په هوا کې الوځي، او دې خوا او هغې خوا ګرځي.

وَإِذَا الرُّسُلُ أُقِّتَتْ ۝١١

او کله چې د پیغمبرانو وخت وټاکلی شي (او جمع کړل شي لپاره د شهادت).

تفسیر: چې له وړاندې وروسته ټاکلي وقت سره سم د خپلو امتیازاتو سره د ربّ العزّت په دربار کې حاضر شي.

لِأَيِّ يَوْمٍ أُجِّلَتْ ۝١٢ لِيَوْمِ الْفَصْلِ ۝١٣

لپاره د کومې ورځې وروستي کړی شوي دي (دا ځیزونه)؟. لپاره (د شهادت) د ورځې د فیصلې.

تفسیر: یعنې پوهېږئ چې دا فیصله کومې ورځې لپاره ساتلی شوې ده؟ هغې ورځې ته چې په هغې کې به د هرې خبرې بیخي او آخري او قطعي فیصله وي، بېشکه که الله تعالی غوښتلی؛ اوس به یې د هر څیز فیصله لاس په لاس او سمدلاسه هم کوله، خو د ده د حکمت اقتضاء داسې نه ده، چې اوس هر څوک پخپلې سزا ورسوي.

وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الْفَصْلِ ۝١٤ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ ۝١٥

او څه شي پوه کړی یې ته چې څه ده ورځ د فیصلې. افسوس، هلاکت، خرابي ده په دغې ورځې کې دروغ ویونکیو لره (په ورځې د قیامت باندې).

تفسیر: یعنې هیڅ مه پوښتنه چې د فیصلې ورځ به څرنګه وي؟ بس دومره وپوهېږه چې دروغ ویونکیو لره به د تباهۍ ډېره سخته ورځ وي، او له سختو مصابو او رېړو سره به په کې مخامخ کېدونکي وي.

أَلَمْ نُهْلِكِ الْأَوَّلِينَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْآخِرِينَ ﴿١٧﴾ كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ ﴿١٨﴾

آیا نه دي هلاک کړي مونږ (مجرم خلق) ړومبني؟ (بلکه هلاک کړي مو دي په سبب د تکذیب سره). بیا ورلېږو په هغو پسې وروستني (مجرمان هم لکه چې له دوی سره مو معامله وکړه). همداسې کار کوو مونږ له ټولو مجرمانو ګنهګارانو سره.

تفسیر: د قیامت منکرانو داسې ګڼل چې د دنیا دا لوی ژوندون به په څه ډول پای (آخر) ته ورسیږي؟ او څرنګه به باور کېدی شي چې دا ګرد بنې آدمان به په یوه ورځ کې سره مړه او انساني نسل به بیخي فنا کیږي؟دا دوزخ او عذاب ویرول ګرد سره فرضي او ساختګي رابنکاري، نو د دې چټې خبرو په ځواب کې فرمایي چې پخوا له دې څخه ډېر خلق مړه شوي دي، او ډېر اقوام او ټبرونه د خپلو ګناهونو په بدل د تباهۍ سره مخامخ شوي دي، د وروستنیو په نسبت به هم داسې د موت او هلاکت سلسله جاري وي، نو پاک الله فرمایي: کله چې ځمونږ قدیمي عادت د مجرمانو په نسبت معلوم او څرګند دی؛ نو وپوهېږئ چې د دې پېړۍ کُفّار به هم په همغو پخوانیو کُفّارو پسې شړو.

وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٩﴾

افسوس هلاکت خرابي ده په دغې ورځې کې دروغ ویونکیو لره (په بعث بعد الموت باندې).

تفسیر: یعنې هغه کسان چې د قیامت راتګ یې د دې لپاره دروغ ګڼه چې ګرد انسانان به څرنګه یو ځلې پناه کیږي؟ او په څه ډول به ګرد مجرمان په یوه وخت کې ګرفتار او په سزا رساوه کیږي؟

أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّاءٍ مَّهِينٍ ﴿٢٠﴾ فَجَعَلْنَاهُ فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿٢١﴾ إِلَىٰ قَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴿٢٢﴾

آیا نه یئ پیدا کړي مونږ تاسې له اوبو سپکو (د مني) ځنې؟. نو ومو ساتلې مونږ هغه (اوبه) په ځای د قراری ټینګ کې (چې د مور رحم دی). تر نېټې معلومې (وخت د ولادت) پورې.

تفسیر: یعنې د یوې وقفې په ځای کې یې محفوظ وساته، له دې ځنې مراد د مور رحم دی، چې هغه ته (بچه دان) هم وایه شي، او علی الأکثر وورکی هلته تر نهو میاشتو پورې وي، او خپل خلقت کاملوي.

فَقَدَرْنَا فَنِعْمَ الْقَادِرُونَ ﴿٢٣﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٤﴾

پس قادر یو مونږ په دغو کارونو باندې پس ښه ټیک قادران یو مونږ. افسوس، هلاکت، خرابي ده په دغې ورځې کې دروغ ویونکیو لره (په ایمان او په نعمت باندې).

تفسیر: یعنې د اوبو هغه څاڅکي یې او تر نېټې معلومې پورې په هغه ټینګ او مضبوط ځای (رحم) کې چې اکثر نهه میاشتې وي؛ وساته په تدریج سره یې پوره کړ، او له هغه څخه یې په ورو ورو یو کامل انسان جوړ کړ، له دې ځنې ځمونږ په قدرت او قوت باندې وپوهېږئ، نو آیا دا الله تعالی دا انسان وروسته له مړینې څخه نشي ژوندی کولی.

تنبیه: ځینو د «قدّرنا» معنی اندازه کول اخیستي دي، یعنې «اندازه مو کړ» او مونږ یو ښه اندازه کوونکي، چې په دومره مدت کې له مونږ ځنې هیڅ یو ضروري څیز نه دی پاتې، او نه مونږ کوم زائد او بېکار شی پیدا کړی دی.

(اوس الله تعالی جل وعلا شأنُه وعظم برهانُه ذکر کوي د خپل احسان پر خپلو بندګانو او داسې فرمایي:)

اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ كِفَاتًا ﴿۲۵﴾ اَحْيَآءً وَّاَمْوَاتًا ﴿۲۶﴾

آیا نه ده ګرځولې مونږ ځمکه جمع کوونکې (په شاه خپلې). ژوندیو لره او مړیو لره (په ګډه، نس خپل کې)؟.

تفسیر: یعنې ګرد ژوندي مخلوقات پر همدغې ځمکې باندې د خپل ژوندون چارې برابروي، او د دوی مړي هم په همدې ځمکې کې خښیږي، او ورته رسیږي، انسان ته ژوندون د همدې خاورې په وسیله په برخه شوی دی، او له مړینې ځنې وروسته یې همدا خاوره د هستوګنې ځای دی، نو آیا بیا دویم کرت له دې خاورې ځنې د هغه پورته کېدل کومه مشکله خبره ده؟.

وَّجَعَلْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ شٰمِخٰتٍ وَّاَسْقَيْنٰكُمْ مَّآءً فُرَاتًا ﴿۲۷﴾

او پیدا کړي دي مونږ په دې (ځمکه) کې غرونه لوی او لوړ، او در ومو څښلې تاسې ته اوبه خوږې تنده ماتوونکې.

تفسیر: یعنې په همدغې ځمکې کې مو لکه غر غوندې درونده او سخت جسم پیدا کړی دی، چې له خپله ځایه هیڅ نه خوځیږي، او په همدې ځمکې کې مو د اوبو چینې در بهولې دي، چې د خپلې نرمۍ او سیلان په سبب تل تر تله بهیږي، او په ډېر سهولت سره یې څښونکي خړوبیږي.

وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۸﴾

افسوس، هلاکت، خرابي ده په دغې ورځې کې دروغ ویونکیو لره (په دغو مخلوقاتو او نعمتونو باندې).

اِنْطَلِقُوْٓا اِلٰى مَا كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۲۹﴾

ځئ ولاړ شئ ! هغه څیز ته چې وئ تاسې چې په هغه (عذاب د اور) به مو دروغ ویل په دنیا کې.

تفسیر: یعنې د قیامت په ورځ کې به منکرانو ته داسې ویل کیږي، بیا به وویل شي د الله له جانبه منکرانو ته داسې چې:

اِنْطَلِقُوْٓا اِلٰى ظِلٍّ ذِيْ ثَلٰثِ شُعَبٍ ﴿۳۰﴾

ځئ لاړ شئ تاسې !، هغه سیوري ته چې خاوند د دریو خانګو دی.

تفسیر: له «قتادة» رضي الله تعالى عنه او نورو ځنې مروي دي چې: د کافرانو د سیوري لپاره یو لوګی له دوزخه راوځي، چې په چاودلو سره به په دریو خانګو ویشل کیږي، وایي چې: دا لوګی به داسې وي چې له هر یوه منکر به له درې خواوو راچاپېر وي، یوه توټه به یې د سر له لوري د چتری په ډول ولاړه وي، او دویمه به یې په ښي لاس او درېمه به یې په کین لاس، د حساب تر خلاصېدو پورې به دا خلق تر همدې سیوري لاندې وي، او ایمانداران او نېک کرداران به د عرش عظیم تر سیوري لاندې په ډېره هوسایي او آرام سره ولاړ وي.

لَّا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِي مِنَ اللَّهَبِ ﴿٣١﴾

چې نه به وي (دا سيورى) يخ، او نه به دفع کوي (له دوى نه هيڅ شى) له لمبې د اور نه.

تفسير: يعنې يواځې په نامه سره به سيورى وي، داسې کوم ځاى سيورى به نه وي چې د هغه په وسيله د لمر له تودوخې يا د اور له لمبو ځنې منکرين ځان وژغوري، يا د تندې د داخلي او خارجي تودوخې مخه ونيسي.

إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ ﴿٣٢﴾

بېشکه هغه (اور) ويشتل کوي په هسې بڅرکو سرو سکروټو سره (چې هره يوه به يې وي) لکه لوړه (اوچته) غټه مانۍ.

تفسير: يعنې د دوزخ دغه سکروټې به دغومره لوړې وي، او هغه سکروټې به د لويې مانۍ د وچتوالي په مېچ را الوځي، يا به د هغه د سکروټو لويوالى د لويې مانۍ له لويوالي سره برابر وي.

كَأَنَّهُ جِمَالَتٌ صُفْرٌ ﴿٣٣﴾

ګواکې هغه (بڅرکي سکروټې قطار د) اوښانو زېړو تورو دى.

تفسير: يعنې که له مانۍ سره تشبيه په لوړوالي (وچتوالي) کې وي؛ نو له اوښ سره به په لويوالي کې هم وي، که هغه تشبيه په لويوالي کې وي؛ نو د ﴿كَأَنَّهُ جِمَالَتٌ صُفْرٌ﴾ مطلب به داسې وي چې: ړومبى به د اور هغه بڅرکي او سکروټې له مانۍ سره برابرې وي، بيا به ماتې او وړې شي د اوښ په اندازه به کيږي، يا به له اوښ سره په رنګ کې تشبيه ولري، خو په دې صورت کې هغو کسانو چې د ﴿جِمَالَتٌ صُفْرٌ﴾ ترجمه په «تورو اوښانو» سره کړې ده؛ هغه زياته ښه لګيږي، ځکه چې له روايتونو څخه دا ثابته شوې ده، چې د دوزخ اور تک تور دى، او عرب تورو اوښانو ته د دې لامله «صفر» وايي چې هغه عمومًا زېړوالي ته مائل وي، والله أعلم.

وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٤﴾

افسوس، هلاکت، خرابي ده په دغې ورځې کې دروغ ويونکيو لره (د داسې عذابونو).

تفسير: چې داسې به يې ځکل چې قيامت نه دى راتلونکى، او که راهم شي؛ نو مونږ به هلته په آرام او هوسايى کې يو.

هَٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ ﴿٣٥﴾

دا هغه ورځ ده چې (مفيدې) خبرې نه کوي (په کې کفّار، يا به نشي نيولى هيڅ حُجّت پر الله باندې).

تفسير: يعنې منکران به ځينو مواطنو کې بالکل خبرې ونه شي کړى، او په هغو مواطنو کې چې وينا کوي؛ هغه به نافع نه وي؛ نو په دې لحاظ سره به د هغوى ويل او نه ويل ګرد سره برابر وي.

وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُونَ ﴿٣٦﴾

او اذن حکم به ونه کړ شي دوى ته چې عذر وغواړي (او نه به معذرت ورته څه نفع ورسوي).

تفسير: ځکه چې د معذرت او د توبې د قبلېدلو وخت تېر شوى دى.

وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٧﴾

افسوس، هلاکت، خرابي ده په دغې ورځې کې دروغ ويونکيو لره (په دغې ورځې د قيامت باندې).

تفسير: يعنې هغه کسان چې دغه ورځ د دنيا په عدليو او محکمو باندې قياس کوي، او داسې يې ګڼلې وي چې که هسې کومه موقع راوړاندې شوه؛ نو هلته به هم په غوږو خبرو او په عذرونو او ننواتو سره ځانونه خلاصوو.

هَٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ ۖ جَمَعْنَاكُمْ وَالْأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾

دا ورځ د فيصلې ده، ټولوو مونږ تاسې (ای مکذّبانو) او پخواني خلق هم.

تفسير: د دې لامله چې ګرد سره راټول کړو، او بيا يې ببل ببل سره ودروو، او وروستنی او آخري حکم او فيصله ور واوروو.

فَإِن كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيدُونِ ﴿٣٩﴾

پس که وي تاسې سره لره څه کيد، مکر چل (په دفع د عذاب کې)؛ نو وکړئ دغه کيد، مکر، چل مو په ما باندې.

تفسير: هو که ! دا ګرد مو دلته سره را ټول کړي، اوس دې يو له بله سره جرګې او مشورې وکړي !، هر هغه چم او مکر فريب او تدبير چې ځمونږ د نيولو لپاره جوړولی شي؛ هغه دې جوړ کړي، او راودې ښيي، په دنيا کې خو مو د حق په باطلولو او پټولو کې ډېر تدبيرونه کړي وو، نن مو هم له همغو تدبيرونو څخه هر يو مو چې زړه غواړي؛ راد مخه يې کړئ !.

وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٠﴾

افسوس، هلاکت، خرابي ده په دغې ورځې کې دروغ ويونکيو لره (په حساب کتاب باندې).

تفسير: چې په نورو يې هيله او اسره کړې وه، چې هغوی به مونږ په هر ډول سره چې وي؛ خلاصوي.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي ظِلَالٍ وَعُيُونٍ ﴿٤١﴾ وَفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٤٢﴾ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾

خامخا پرهېزګاران ويريدونکي به (د جنّت د ونو) په سيورو کې وي، او په (غاړه د) چينو کې به وي. او په (منځ د) مېوو کې به وي له هغه قسمه چې غواړي يې دوی. (او وايي به مؤمنانو ته پرښتې چې) خورئ تاسې او څښئ تاسې (ای متّقيانو) په داسې حال کې چې لذّت اخيستونکي به يئ په سبب د هغو (صالحه اعمالو) چې وئ به تاسې چې کول به مو (په دنيا کې).

تفسير: يعنې ويريدونکي له عذابه د الله چې کوي پرهېز له کفر او عصيان څخه؛ رومبی د عرش بيا د جنّت په سيوريو کې به وي، د مکذّبينو په مقابل کې يې دا د متّقينو حال بيان وفرمايه، ځکه چې «الأشياء تعرفُ بأضدادها».

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٤٤﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٥﴾

(لکه چې جزاء مو متقيانو ته ورکړه؛) بېشکه مونږ دا رنګه ښه بدل ورکوو نېکانو ته. افسوس، هلاکت، خرابي ده په دغې ورځې کې دروغ ويونکيو لره (په نعماوو د جنّت سره).

تفسیر: چې په دنیا کې به یې مسلمانانو ته ویل: که له مړینې څخه وروسته بیا ژوندون وي؛ نو هلته به هم مونږ له تاسې څخه ښه یو، اوس چې هغوی تاسې په عیش او عشرت کې وینئ، او خپل ځانونه په تکلیف او زحمت کې مومئ؛ نو دوی ته لا زیات تکلیف رسیږي، او رسوا او ذلیل کیږي، او وایي به منکرانو ته پرښتې داسې چې:

كُلُوا وَتَمَتَّعُوا قَلِيلًا إِنَّكُمْ مُجْرِمُونَ ﴿٤٦﴾

خورئ تاسو ! او نفع واخلئ (ای مکذّبانو له نعمتونو د فاني دنیا) لږې ورځې، بېشکه یئ تاسې مجرمان (ګنهګاران په عُقبی کې).

تفسیر: دا خطاب مکذّبینو ته دی، چې څو ورځې نورې هم مزې وکړئ !، آخر به د دې خوړلو او څښلو بدل په ښه ډول له تاسې څخه اخیست کیږي، ځکه چې تاسې د الله تعالی مجرمان یئ، چې د هغه سزا پرته له حبس دوام او عذاب الیم څخه بل شی نه دی.

وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٧﴾

افسوس، هلاکت، خرابي ده په دغې ورځې کې دروغ ویونکیو لره (له عذاب دردناک څخه).

تفسیر: چې د دنیا په عیش عشرت، ساعت تېری او لذّتونو کې ډوب تللي وي، له دې څخه خبر نه وي؛ هغه څیز چې تاسې ته د ګلانو آمېل ښکارېده، او هغه مو پخپلو غاړو کې اچول، هغه یو تک تور سخت چیچونکی مار او منګور دی.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ارْكَعُوا لَا يَرْكَعُونَ ﴿٤٨﴾

او کله چې وویل شي (په دنیا کې) دغو (مکذّبینو) ته چې رجوع وکړئ، لمونځ وکړئ تاسې (الله ته)؛ نه کوي دوی رکوع لمونځ (الله ته).

تفسیر: یعنې مکذّبین په لمانځه کې رکوع نه لري، یا د الله تعالی د عامو احکامو په مقابل کې غاړه نه ږدي.

وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾

افسوس، هلاک، خرابي ده په دغې ورځې کې دروغ ویونکیو لره (په اوامر او نواهي د الله).

فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٠﴾

پس په کومې خبرې باندې وروسته ما سوا له دې (قرآنه) به ایمان یقین راوړي (دغه منکران)، بلکه په بل شي باندې ممکنه نه ده پرته له (قرآن).

تفسیر: یعنې له قرآن مجید څخه لوړ او کامل او مؤثر بیان به د چا وي؟ که دا مکذّبین په دې باندې باور نه کوي؛ نو پر کومې خبرې به ایمان راوړي، آیا له دې پاک قرآن ځنې وروسته د بل کوم کتاب د راتللو په انتظار کې دي، چې له اسمانه به رانښکته شي؟.

تمّت سورة المرسلات بفضله، ولله الحمدُ والمنّة، وبه التوفيق والعصمة.

سُورَةُ النَّبَإِ

«د (النبأ) سورت مکي دی، (۴۰) آیته (۲) رکوع لري، په نزول کی (۸۰) او په تلاوت کی (۷۸) سورت دی، وروسته له المعارج له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ ﴿١﴾

له څه شي څخه پوښتنه کوي (کفار) یو له بله (یا له مؤمنانو څخه په طریقه د مسخرې څخه).

تفسیر: یعنې خلک دکومې خبرې پته لګولو او دکوم څیز په تحقیق او تفتیش کی مشغول دي؟ آیا په هغو کی داسې څه قوت او استعداد شته چې له ډیرو پوښتنو څخه په هغه څیز باندې وپوهیږي؟ هیڅکله به ونه پوهیږي، یا دا چې کافران دانکار او استهزاء او دنه منلو او مسخرو په ډول (طریقه) په خپلو منځونو کې او هم له پیغمبر او مسلمانانو څخه پوښتي خانه !هغه لویه ورځ کله راځي؟ ولې دومره وځنډېده (ایساره شوه) اوس ولې نه راځي؟

عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ ﴿٢﴾ الَّذِي هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ ﴿٣﴾

پوښتنه کوي (کفار) دلویي خبرې (قیامت یا قرآن څخه چې مشتمل دی په بعث او نورو اخروي امورو). هغه (قرآن) چې دوی په کې مختلف دي (مؤمنان یي په حقانیت اقرار لري، او کافران تري انکار کوي).

تفسیر: یعنې دقیامت لویه ورځ چې دخلقو په منځ کې په هغې کې اختلاف او شخړه ده او کفار په هغه کې سره مختلف دي، په انکار او په شک کې، یا به تپوس کاوه مؤمنانو او کافرانو ټولو، مؤمنانو دپاره دزیادت دویرې او دکافرانو له جهته دمسخرې نه، څوک راتګ نه مني، څوک یې په خیال کې ورته تللي دي.

كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴿٤﴾ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴿٥﴾

نه دی کوي (دا اختلاف او پوښتنې) ژر به وپوهیږي (دا کافران په عذاب دانکار باندې). بیا هیڅکله دی نه کوي (پوښتنې او اختلاف) ژر به وپوهیږي (دغه منکران په هغه څه باندې چې حق دی په هغه وقت کی چې مړه شي او وڅکي عذاب).

تفسیر: یعنې پیغمبرانو ددنیا له اوله تر اوسه پورې خلق ډیر پوهولي دي، خو خلقو هیڅ کله له خپلو جګړو او پوښتنو مخ نه دی اړولی، اوس نژدې ده چې هغه ویروونکې نندارې هغوی ته په مخ کې راشي، نو هلته به وپوهیږي چې دقیامت لویه ورځ څه شی ده؟ او دهغې پوښتنې او جګړې په څه ډول دي؟.

أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَادًا ﴿٦﴾

آیا نـه ده ګرځولې مونږ ځمکه فرش(بلکه ګرځولې ده مونږ ځمکه فرش لپاره دهستوګنې دخلقو).

تفسیر: چې خلق په سکون او اطمینان پرې ډډې ولګوي، او هستوګنه پرې وکړي، او په آرامۍ او هوسایۍ (راحت) سره ناسته ملاسته په کې وکړي.

وَّالْجِبَالَ اَوْتَادًا ۙ﴿۷﴾

او (آیا نه دي ګرځولي مونږ) غرونه میخونه (بلکه ګرځولي دي مونږ غرونه دځمکې میخونه چې په سبب دهغو برقراره ده).

تفسیر: لکه چې یو شی دمیخونو په وهلو سره ټینګیږي او نه سره بیلیږي او نه له خپل ځای څخه دبخوا او هغې خوا ته خوځیږي؛ همدا راز دځمکې هغه ابتدائي خوزښدل او سره بیلښدل دغرونو د شته والي په سبب شول، او دالله تعالی په امر یې په ښکاره ډول یو راز آرام په برخه شو.

وَّخَلَقْنٰكُمْ اَزْوَاجًا ۙ﴿۸﴾

او پیدا کړي یئ مونږ تاسې جوړه (نر او ښځه).

تفسیر: یعنې الله تعالی د نارینه دسکون او راحت او هوسایۍ او وخت تیرولو دپاره ښځه دده جوړه کړې ده، یا به له ازواج څخه مراد راز راز اشکال (انواع اقسام) او نور شیان مراد وي.

وَّجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ۙ﴿۹﴾

او ګرځولی دی مونږ خوب ستاسې قطع د کارونو آرام راحت (دابدانو دتاسې).

تفسیر: یعنې سړی چې په اوږدې ورځې کې له ډیر کار او بار او خوځښدو ستړی ستومانه کیږي نو هر کله چې اوده شي؛ نو ګرده ستومانې او ستړتیا یې لرې کیږي، ګواکې خوب د آرامۍ او هوسایۍ نوم دی، وروسته له دې دخوب په مناسبت شپه هم یادیږي.

وَّجَعَلْنَا الَّيْلَ لِبَاسًا ۙ﴿۱۰﴾

او ګرځولې ده مونږ شپه لباس (پټوونکې دهر څیز په تیارې خپلې سره).

تفسیر: همغسې چې سړی پخپلو جامو سره ځانونه پټوي، همدارنګه دشپې تیاره هم دخلقو پرده ساتي، او هغه چارې چې دپټیدلو وړ وي؛ زیاتره یې دشپې په تیاره کې کولی شئ، په هسې او ښکاره ډول هم سړی له ورځې زیاتره دشپې له مخې دیخنۍ او نورو شیانو لامله جامې اغوستلو ته اړ او محتاج کیږي.

وَّجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ۙ﴿۱۱﴾

او ګرځولې ده مونږ ورځ (وقت دطلب) معاش (او دکارونو).

تفسیر: زیاتره هر راز چارې او ګټې دورځې له مخې کیږي، چې له هغو څخه هر څوک دخپل کور او کهول حوائج او اړتیاوې لرې او خپل زړه ډاډه کوي، دشپې او ورځې په مناسبت د اسمان او لمر خبره هم کیږي، یا دا چې دځمکې په مقابل کې داسمان بیان هم کاوه شي.

وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴿۱۲﴾

او جوړ کړي دي مونږ دپاسه دتاسې اوه محکم (اسمانونه چې نشته په کې هیڅ نښه دخلل او د نقصان).

تفسیر: یعنې اووه کلک اسمانونه جوړ شوي دي، چې سره له دومره زیاتو پېړیو مدتو دتېرېدلو اوس هم دپخوا په شان دي، او هیڅ یو کنډو په کې نشته، او داسې ټینګ او کلک دي چې له سره نه نړېږي، او هیڅ یو چاود او درز په کې نه ښکاري.

وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا ﴿۱۳﴾

او ګرځولې پیدا کړې ده مونږ (په اسمان کې) ډیوه روښانه.

تفسیر: یعنې لمر چې دتودوخې او رڼا دواړه اوصاف په کې شته.

وَأَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاءً ثَجَّاجًا ﴿۱۴﴾

او نازلې راښکته کړېدي مونږ له نچوړونکو او ورونکیو (ورېځو) څخه اوبه ډېرې توئیدونکې پاکې صافې.

تفسیر: څڅیدونکې وریځې یا څڅولې هواوې.

لِنُخْرِجَ بِهِ حَبًّا وَنَبَاتًا ﴿۱۵﴾ وَجَنَّاتٍ أَلْفَافًا ﴿۱۶﴾

لپاره د دې چې راوباسو مونږ په هغو (اوبو) سره دانې، او واښه. او باغونه یو له بل سره ګڼ نژدې.

تفسیر: یعنې ډېر ګڼ باغونه، یا دا چې په یوې ځمکې کې یې راز راز ونې او باغونه شنه کړي دي.

إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا ﴿۱۷﴾

بېشکه ورځ د فیصلې (په مابین د خلقو کې قیامت دی) وخت (مقرر لپاره د ثواب او عقاب په حکم د رب ستا).

تفسیر: د فیصلې ورځ به هغه وي چې ښه او بد داسې سره بیخي په کې بیلیږي، چې په هیڅ ډول اشتراک او اجتماع به په کې نه پاتې کیږي، هره نیکي خپل معدن ته او هره بدي خپل مرکز ته ورځي، ښکاره ده چې داسې کامل امتیاز او افتراق په دې دنیا کې نشي کېدی.

يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿۱۸﴾

هغه ورځ چې وپوکل شي (دویم ځلي) په صور (شپېلۍ) کې؛ نو راځئ به تاسې ډلې ډلې (له قبرونو نه موقف ته).

تفسیر: یعنې ډېر زیات غونډونه او فرقې سره ټولیږي، چې د هغوی وښونه د هغو په چارو، عقائدو او اعمالو پورې تړلې او مربوط دي.

وَّفُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ اَبْوَابًا ﴿١٩﴾

او پرانستلی، ځیرلی به شي اسمان (په دغه ورځ د قیامت کې)؛ نو شي به دروازې دروازې.

تفسیر: یعنې اسمان به داسې وپرانیستلی او توتې توتې شي چې له لرې به دروازې په کې ښکاري.

وَّسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾

او روان به کړل شي غرونه، نو شي به لکه سراب (شګو ګل ځلېدونکې ځمکه لکه اوبه).

تفسیر: لکه چې په ځلېدونکو شګو باندې له لرې ځخه د اوبو ګمان کیږي؛ همداسې په هغو غرونو باندې به هم اټکل کاوه شي، ځکه چې هغه به غرونه نه وي، بلکه د شګو ګل (سراب) به وي.

اِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿٢١﴾ لِّلطّٰغِيْنَ مَاٰبًا ﴿٢٢﴾

بېشکه دوزخ چې ځای د انتظار (د کتو لپاره د تېرېدونکیو دی). سرکشو لره د ورتللو او د هستوګنې ځای دی.

تفسیر: یعنې دوزخ د شریرینو په انتظار کې دی، او هلته د دوی د ورتللو او د هستوګنې ځای دی، یا بېشکه دوزخ ځارونکی دی، او ځای د تېرېدلو د خلقو دی، نو مؤمن به تر تېر شي، او کافر به په کې پرېوځي.

لّٰبِثِيْنَ فِيْهَآ اَحْقَابًا ﴿٢٣﴾

ځنډ کوونکي به وي دغه (سرکشان) په هغه (دوزخ) کې ډېرې زمانې (بلکه همېشه به په کې پاتې کیږي).

تفسیر: چې د شمېرلو مېچ یې نشته، سره له دې چې ډېرې زمانې او پېرې تیریږي، خو د دوی مصیبت به پای ته نه رسیږي.

لَا يَذُوْقُوْنَ فِيْهَا بَرْدًا وَّلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ اِلَّا حَمِيْمًا وَّغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾

نه به څکي دغه (سرکشان) په هغه (دوزخ) کې سړه (هوا اوبه)، او نه د څښلو (یخ) څیز. مګر پرته له ډېرو تودو اوبو او بهېدونکیو زوو له وینو سره.

تفسیر: یعنې نه د یخنۍ راحت او هوسایي مومي، نه به د څښلو کوم خوند هغوی ته پیدا کیږي، یواځې تودې اوبه وررسیږي، چې له هغو څخه د هغوی خولې سوځي، او کولمې یې پرې کیږي، او له ګېډې څخه د باندې لویږي، او بل هغه تکې زیږې بهېدونکې زوې وررسیږي، چې د نورو دوزخیانو له پرهارو څخه راووځي، الله تعالی دې مونږ له دې او له نورو دنیوي او اخروي هر راز ربړو څخه وساتي.

جَزَآءً وِّفَاقًا ﴿٢٦﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾ وَّكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كِذَّابًا ﴿٢٨﴾

جزاء (ورکوله شي دغو سرکشانو ته) موافقه (له اعمالو د دوی سره). بېشکه وو دوی (په دنیا کې) چې نه ویرېدل امید هیله یې نه لرله د حساب. او دروغ یې ګڼل آیتونه ځمونږ په ډېر دروغ ګڼلو سره.

تفسير: يعني د هغه شي نه چې دوی تری نه ویرېدل، او نه يې تری هيله لرله؛ هم هغه وردمخه شو، او هغه خبره چې دروغ يې بلله؛ پخپلو سترګو يې وليدله، اوس ګورو چې دوی څنګه تکذيب او انکار کوي.

وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ كِتَابًا ﴿٢٩﴾

او هر څيز (له طاعته او معصيته) شمېرلی دی مونږ هغه په ليکلو سره (په لوح محفوظ کې لپاره د جزاء).

تفسير: يعني هر څيز د الله تعالى په ازلي او ابدي علم او پوهې کې شته، او د هغه د علم المحيط سره سم د لوح محفوظ په دفتر کې ليکلی دی، هيڅ يو شه او بد کار د الله تعالى د علم له احاطې څخه د باندې نه دی، د يوې وړې ذرې پوښتنه او شمېر هم کوي، او وبه ويل شي دغو منکرانو سرکشانو ته په آخرت کې په وخت د وقوع د عذاب کې پردوی باندې د أکرم شأنه وأعظم برهانه له جانبه داسې چې:

فَذُوقُوا فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾

پس وڅکئ (سزا خپله) چې له سره نه زياتوو مونږ پر تاسې پر ته له عذابه (د پاسه په بل عذاب باندې).

تفسير: يعني همغسې چې تاسې په تکذيب او انکار کې تېری او وړاندې تګ کوئ؛ نو که بې واکه مړګ او مړينه تاسې ته درپېښه شي؛ تل به مو همدا وړاندې تګ وي، اوس د لويو رېږو خوند وڅکئ !، مونږ به هم ستاسې عذاب داسې زياتوو چې هيڅ تخفيف او سپکتيا به په کې نه وي، او د يوه عذاب د پاسه به بل عذاب درکاوه کېږي، او دغه آيت ډېر سخت دی لـه آيتونو د قرآنه په حق د دوزخيانو کې، اوس الله تعالى أعظم برهانُه وأعلى شأنُه د مؤمنانو کرامت داسې بيان فرمايي:

إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَائِقَ وَأَعْنَابًا ﴿٣٢﴾ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴿٣٣﴾

بېشکه خاص متقيانو ته (په آخرت کې) ځای د خلاصي بري کاميابی دی. باغونه (د مېوې) او د انګورو (ونې) دي. او پېغلې انارتيونې همځولې دي.

تفسير: يعني داسې انارتيونې پيمخې پېغلې چې دوی د خپل پېغلتوب وروستني مېچ ته رسېدلې وي، او ګردې په يوه عمر او يوه ونه وي؛ متّقيانو ته ورعنايت کېږي.

وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾

او (متقيانو ته په جنّت کې د شراب طهور) پيالې ډکې تر څنډو (غاړو) دي.

تفسير: يعني د پاکو خوږوبي (شراب طهور) په څنډو اوښتي جامونه به پر متقيانو مؤمنانو ورځښولی کېږي.

لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّابًا ﴿٣٥﴾

نه اوري په دغه (جنّت کې متّقيان) لغو چتې (بېکاره) خبرې او نه دروغ.

تفسير: يعني په جنّت کې چتې خبرې اترې نه وي، او ملنډې نه پکښې اورېدلی کېږي، درواغ او فرېب او درغلي په کې نه وي، نه څوک له چا سره جنګ جنجال کوي، ځکه چې هلته د جګړې او شخړې هيڅ يوه پېښه نه وي، او نه څه ضرورت ورته واقع کېږي.

جَزَآءً مِّن رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿٣٦﴾

(جزاء به ورکوله شي متّقيانو ته) جزاء ورکول له ربه ستا نه عطاء ډېره (په حساب د اعمالو سره).

تفسير: يعنې د يوې يوې ذرې شمېر به کيږي، او ښه بدل او کافي اجر يې د دوی د رب او پالونکي له جانبه ورکاوه کيږي، هسې رب أکرم شأنُه وأعظم برهانُه.

رَّبِّ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمَٰنِ لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا ﴿٣٧﴾

چې رب د اسمانونو او (رب د) ځمکې او (رب د) هغو شيونو دی چې په منځ د دغو دواړو (ځمکې او اسمان) کې دي، ډېر مهربان دی، نه به مالکان کيږي (د شفاعت، نه به توانيږي خلق) له دغه (الله) سره د خبرو کولو.

تفسير: يعنې نه به قادريږي هيڅوک چې خبرې وکړي له الله سره له وېرې، يا نه به مالکان کيږي د شفاعت لپاره د هر چا مګر خو په اذن د الله تعالی، او سره له دومره لطف، مرحمت د هغه الله تعالی عظمت، جلال او لورينه داسې ده چې هيڅوک د الله تعالی په مخ کې خبرې نشي کولی، او شونډې نشي خوځولی.

يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَٰئِكَةُ صَفًّا ۖ

په هغې ورځې (د قيامت) کې چې ودريږي روح او د ملائکو صفونه صفونه.

تفسير: له روح څخه مقصد ګرد ساکښان دي، يا به له هغه څخه (روح القدس) مراد وي، چې جبريل عليه السلام دی.

لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾

نه به کوي خبرې (هيڅوک له وېرې په باب د شفاعت کې مګر) پرته له هغه چې اذن حکم وکړي ده ته رحمان (د خبرو يا د شفاعت)، او ويلی يې وي صواب ښه خبره (په دنيا کې چې لا اله الا الله ده).

تفسير: يعنې په هغه دربار کې هر څوک هر څه چې وايي؛ د هغه الله تعالی په اذن او حکم اشاره يې وايي، او څه چې وايي؛ همداسې خبرې کوي چې د ويلو او کولو وړ او خورا (درستې) او معقولې وي، لکه د کوم غير مستحق سپارښت نه کوي، په هغه ورځ کې او د الله تعالی په حضور کې به د سپارښت وړ يوائې هغه څوک کېدی شي؛ چې په دنيا کې له رښتينو او جوتو خبرو څخه زياتره رښتيا او جوتې خبرې يې له خولې څخه وتلې وي، او د «لا اله الا الله» پاکه کلمه يې ويلې وي، يعنې مسلمان وي نه کافر، ولې چې نه کوي شفاعت مګر خو د مستحق مؤمن، ای الله تعالی ! تل دا کلمه ځمونږ په ژبو جاري لره !.

ذَٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ ۖ فَمَن شَاءَ اتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِ مَآبًا ﴿٣٩﴾

دا هغه ورځ ده حقه، پس هر هغه چې اراده وکړي؛ نيسي طرف د رب خپل ته مرجع.

تفسير: يعنې هغه د قيامت ورځ خامخا راتلونکې ده، اوس هر هغه څوک چې خپله ښه او بهتري غواړي؛ ښايي چې د هغې ورځې لپاره ځان تيار کړي، او په زړه پورې تياری ورته ونيسي !.

إِنَّآ أَنذَرْنَٰكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا ۖ يَوْمَ يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ ٱلْكَافِرُ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًۢا ﴿٤٠﴾

بېشكه مونږ چې يو ويروو مونږ تاسې (ای کُفّارو) له يوه عذاب راتلونكي نژدې څخه (چې عذاب د آخرت دی)، هغه ورځ چې وبه ويني هر سړی هر هغه څه چې په مخ کې ليږلي دي دواړو لاسو د ده، (يعنې ښه او بد، وړاندنی وروستنی چارې او اعمال يې وروړاندې کيږي)، او وبه وايي کافر (په ورځ د قيامت کې): کاشکې چې وی زه خاورې.

تفسير: يعنې کاشکې زه خاورې وی !، په دنيا کې چې هيڅ کله پيدا شوی نه وی !، ځکه چې د همدغه پيدايښت له سببه د حساب او کتاب په عذاب اخته شوی يم.

تمّت سورة النبأ بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ النَّازِعَاتِ

«د (النازعات) سورت مکّي دی، (۴۶) آیته (۲) رکوع لري، په تلاوت کې (۷۹)، په نزول کې (۸۱) سورت دی، وروسته د (النّبأ) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَالنّٰزِعٰتِ غَرْقًا ۝١ وَّالنّٰشِطٰتِ نَشْطًا ۝٢

قسم دی (په ملائکو) سخت وښکوونکیو (ارواحو د کفّارو لره) سخت وښکل. (او قسم دی) په ملائکو اسان وښکوونکیو (ارواحو د مؤمنانو لره اسان وښکل).

تفسیر: یعنې قسم دی په هغو پرښتو باندې چې د کافرانو په رګونو کې ورننوځي، او د هغوی ارواح په راښکلو سره له سرونو د ګوتو او نوکونو نه په ډېره سختۍ سره وباسي، یا قسم دی په ستوریو ځغلېدونکیو باندې له مشرق نه مغرب ته.

﴿وَالنّٰشِطٰتِ نَشْطًا﴾«او قسم دی په ملائکو اسان وښکوونکیو ارواحو د مؤمنانو لره اسان وښکل»، یعنې هغه پرښتې چې له مؤمنانو څخه د روح غوټه پرانیځي، او بیا دوی په ډېرې خوښۍ سره د بره په لوري ځغلي، خو په یاد یې ولرئ چې دا ذکر د روح دی، او د بدن نه دی، لنډه یې دا چې ښه سړی په ډېرې خوښۍ سره د بره په لوري ور ځغلي، او بد سړی تري تښتي، نو یې په راښکودلو سره بېرته بیایي، یا قسم دی په هغو ستوریو باندې چې وځي له یوه برجه بل برج ته.

وَّالسّٰبِحٰتِ سَبْحًا ۝٣ فَالسّٰبِقٰتِ سَبْقًا ۝٤

او قسم دی په تېزو غوټه وهونکیو (ملائکو په تعمیل د احکام الله) تېز غوټه وهل. نو قسم دی په وړاندې کېدونکیو (ملائکو) باندې وړاندې کېدل (په ارواحو د مؤمنانو جنّت ته).

تفسیر: یعنې هغه پرښتې چې روح له ځان سره اخلي، او د ځمکې څخه د اسمان په لوري په داسې سرعت او سهولت سره ځغلي، لکه چې بې له کوم تکلیفه په اوبو باندې ګرځندۍ لامبو وهي، بیا نو د دې ارواحو په باره کې هر هغه امر چې د الله تعالی له خوا کېږي؛ د هغه په ځای راوړلو ته په ډېر شوق، او تلوار سره ورځغلي، یا قسم دی په تسبیح ویونکو باندې په تسبیح ویلو سره، یا په هغو ستوریو باندې قسم دی چې وړاندې کېږي یو له بل نه په تللو راختلو او نورو.

فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ۝٥

پس (قسم دی) په تدبیر جوړوونکیو (ملائکو) د حکم د الله (په دنیوي چارو کې، جواب د قسم دا دی چې خامخا به راپورته کړی شئ تاسې لپاره د حساب او کتاب).

تفسیر: یعنې وروسته له هغه د دې ارواحو په نسبت کې د ثواب حکم کېږي که د عقاب؛ د دې دواړو احکامو تدبیر او انتظام په همدغو پرښتو پورې اړه (تعلّق) لري، او د هر حکم په کولو سره مشغولېږي، یا به مطلقًا له هغو پرښتو څخه مراد وي چې د عالم تکوین په انتظام او تدبیر باندې مسلّطې دي.

يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ۙ﴿٦﴾ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ؕ﴿٧﴾

هغه ورځ چې ولړځيږي لړځېدونکې (چې اوله شپېلۍ ده). پس راځي پس له دې نه هغه وروسته راتلونکې (چې ثاني نفخه ده).

تفسير: يعنې د قيامت په ورځ کې به ولړځيږي غرونه او ځمکه له اول ځلي شپېلۍ او صور له پوکلو څخه، شاه صاحب ليکي چې پرله پسې ځمکه لړځيږي، ډېرو مفسّرينو له «رادفة» څخه مراد دويم صور او شپېلۍ اخيستې ده، والله تعالى أعلم.

قُلُوْبٌ يَّوْمَئِذٍ وَّاجِفَةٌ ۙ﴿٨﴾ اَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ۘ﴿٩﴾

زړونه (د منکرانو د بعث) په هغې ورځې کې به بې قراره رپېدونکي وېرېدونکي وي. سترګې د هغوی به سپکې ذليلې ښکته وي (له وېرې).

تفسير: يعنې د پرېشانۍ او ويرېدلو له سببه به زړونه رپيږي، او ځانونه به لړځيږي، د دوی سترګې به خوارې او سپکې او ښکته وي، او د ذلّت او ندامت او پښېمانۍ ګردې نښې به په هغوی کې له لرې ښکاري.

يَقُوْلُوْنَ ءَاِنَّا لَمَرْدُوْدُوْنَ فِي الْحَافِرَةِ ؕ﴿١٠﴾ ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةً ؕ﴿١١﴾ قَالُوْا تِلْكَ اِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ۘ﴿١٢﴾

وايي به (دغه منکران د بعث تمسخُرًا) آيا مونږ به بيا وګرځولی شو په ړومبي حالت (بيا ژوندي کيږو؟). آيا کله چې وګرځو مونږ هډوکي زاړه رېژېدونکي (نو بيا به هم ژوندي کيږو؟). وويل (منکرانو تمسخُرًا) دغه (ګرځېدل ځمونږ ژوندون ته) په هغه وخت کې ګرځېدل نقصانمن زيانمن دي.

تفسير: يعنې د هديرې په ژوره کې له خښېدلو څخه وروسته به بيا څرنګه مونږ ژر تر ژره بېرته ژوندي کيږو؟ مونږ خو په دې خبرې نشو پوهېدی چې په رژېدلي زاړه هډوکي کې به بيا څنګه روح ننوځي؟ که داسې کومه پېښه وشي؛ نو بيا به ژوندي کېدل ډېر ضرر لرونکي او زيانمن وي، ولې چې مونږ هغه ژوندون لره څه تياری نه دی کړی، او هيڅ شی او سامان نه ورته لرو، دا خبرې دوی په ملنډې او مسخرو سره کوي، نو بيا فرمايي الله أكرم شأنُه وأعظم برهانُهُ چې:

فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ ۙ﴿١٣﴾ فَاِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ ؕ﴿١٤﴾

پس بېشکه دا (ثاني نفخه) خو پوکل يو دي (ډېر اسان چې پرې ژوندي کيږي ګرد مخلوقات). پس ناڅاپه وي به دغه (خلق ټول) په مخ د ځمکې (پس له مرګه).

تفسير: ځينې د «ساهرة» مصداق شام بولي، او ځينې يې د دوزخ نوم ګڼي، يعنې منکر خلق دا خبره ډېره سخته ګڼي، او حال دا دی چې داسې چارې پاک الله تعالى ته ډېرې آسانې دي، تر دې چې د يوې سلګۍ وهلو په مېچ دا ګردې چارې کيدونکې دي، يعنې د يوې چغې او د صور په پوکلو سره بې له ډيله ګرد پخواني او وروستني مړي له ځمکې څخه د حشر په ډګر کې سره ټوليږي.

هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ۘ﴿١٥﴾

آيا راغلې ده تاته (ای محمده ! بلکه بېشکه رسېدلې ده تاته ای محمده !) خبره د موسى.

تفسير: دا قصه په څو څايونو کې په تفصيل سره ذکر شوې ده، يعنې په تحقيق راغلې ده تاته خبره د دغه موسى.

إِذْ نَادَىٰهُ رَبُّهُ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾

کله چې ور غږ کړ دغه (موسى) ته رب د ده په پاکه کنده ميدان د طوى کې.

تفسير: يعنې د طور له غره سره نژدې، او موسى ته الله أكرم شأنُهُ وأعظم برهانُهُ دغسې امر وفرمايه چې:

اذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَىٰ ﴿١٧﴾ فَقُلْ هَل لَّكَ إِلَىٰ أَن تَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَأَهْدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخْشَىٰ ﴿١٩﴾

لاړ شه (په رسالت ځما) طرف د فرعون ته چې بېشکه ده سر غړولى (تجاوز يې کړى) دى (د الله تعالى له احكامو). نو ووايه ورته: آيا مينه لرې ته په طرف د دې چې پاک شې (له شرک او معاصي نه)؟. او (رغبت لرې دې ته چې) لاره دروښيم تاته طرف د رب ستا ته؛ پس وويرېږې ته (له عذابه).

تفسير: يعنې كه ته خپل ښه والى او اصلاح غواړې؛ نو زه د الله تعالى په امر ستا اصلاح كولى شم، او داسې لاره درښيم چې پر هغې باندې له تللو څخه ستا په زړه كې د الله تعالى وېره او د هغه كامل معرفت ټينګ شي، ځكه چې د وېرې شته والى بې له پوره معرفت متصوّر نه دى، ښكاره شوه چې د موسى عليه السلام له بعثت څخه مقصد د فرعون اصلاح هم وه، او يواځې د بني اسرائيلو نجات او ژغورنه له قيده نه وه، پس موسى عليه السلام فرعون ته ورغى، او هغه ترې معجزه وغوښته.

فَأَرَاهُ الْآيَةَ الْكُبْرَىٰ ﴿٢٠﴾

پس وښودله (موسى) دغه (فرعون ته) معجزه لويه.

تفسير: يعنې هلته رسېدلى د الله تعالى پيغام يې ورساوه، او موسى فرعون ته د حجّت د تمامولو لپاره له ګردو څخه لويه معجزه له همسا ځنې د ښامار جوړول وروښودل.

فَكَذَّبَ وَعَصَىٰ ﴿٢١﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعَىٰ ﴿٢٢﴾

پس تكذيب وكړ (فرعون د موسى) او ويې نه مانه. بيا يې شا كړه (له ايمانه) لاړ په ډېره بېړه سره (په فساد پسې).

تفسير: يعنې هغه ملعون فرعون نه وو منونكى، او په دې فكر كې ولګېد چې ډېر سړي سره راټول كړي او كوډګران ولټوي، او پر دې باندې يې وګماري چې د موسى عليه السّلام د معجزاتو مقابله په سحر سره وكړي.

فَحَشَرَ فَنَادَىٰ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ ﴿٢٤﴾

پس (فرعون ګرد ساحران) راټول كړل، پس غږ يې وكړ. پس وويل (فرعون داسې چې) زه رب پالونكى ستاسې يم ډېر لوى لوړ.

تفسير: يعنې له ګردو څخه لوى رب خو زه يم، نو دا موسى عليه السلام د كوم رب رسول او استائى دى؟ معاذ الله.

فَأَخَذَهُ اللَّهُ نَكَالَ الْآخِرَةِ وَالْأُولَىٰ ﴿۲۵﴾

پس ونيو دغه (فرعون لره) الله په عذاب د آخرت او د دنيا.

تفسير: يعنې دلته د دنيا په اوبو کې ډوب شو، او هلته د عقبى په اور کې سوځي.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ ﴿۲۶﴾

بېشکه په دغه (ډوبېدلو د ده او سوځېدو د ده) کې خامخا عبرت دى هغه چا لره چې ويريږي (له الله نه).

تفسير: په دې قصې کې ډېرې خبرې د سنجولو (فکر کولو) او عبرت او نصيحت اخيستلو لپاره شته، په دې شرط چې د سړي په زړه کې لږ څه د الله تعالى وېره وي.

(ربط): د موسى عليه السلام او د فرعون قصه په منځ کې استطراداً راغلې ده، وروسته له دې نه بيا هغه مضمون د قيامت په لوري اوړي، لکه چې اوس د قيامت منکرانو ته الله أكرم شأنُهُ وأعظم برهانهُ داسې فرمايي:

ءَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ السَّمَاءُ ۚ بَنَاهَا ﴿۲۷﴾

آيا تاسې ډېر سخت يئ د پيدايښت لامله که اسمان؟ جوړ کړى دى (الله) دغه (اسمان).

تفسير: يعنې د تاسې پيدا کول هغه هم وروسته له دې چې يو ځلې پيدا شوي يئ له اسمانونو څخه ګران دى؟ کله چې تاسې د داسې لوى اسمان خالق او مالك الله تعالى پېژنئ؛ بيا نو پخپلو بيا پيدا کېدلو کې ولې تردّد او شبهه لرئ؟ جوړ کړى دى الله اسمان.

رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّاهَا ﴿۲۸﴾ وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَاهَا ﴿۲۹﴾

پورته کړى دى (الله) چت لوړوالى د هغه (اسمان) نو سم صاف بې عيبه يې کړ. او توره تياره يې کړه شپه د دغه (اسمان)، او راويې ايسته ورځ رڼا د دغه (اسمان).

تفسير: يعنې په اسمان کې فکر ووهئ ! چې څومره زيات هسك او اوچت دى؟ څرنګه کلك او مضبوط دى؟ په څه اندازه منظم مرتب بې عيبه او بې نقصانه دى؟ څنګه صاف او هوار دى؟ څه ډول انتظام او تدوين او ترتيب د هغه په موجوداتو او مربوطاتو کې شته؟ د هغه له لمر او سپوږمى او ستوريو څخه څومره ګټې اخلئ؟ او په څه اندازه د اوقاتو او اطرافو په پېژندلو او نورو شيانو کې ورځنې ګټور کېږئ، د اسمان نندارې ته د ورځې له خوا او د شپې له خوا ببل ببل ځير شئ چې څرنګه درښکاري؟ او د تعجّب او د حيرت وړ دربرينې؟.

وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَاهَا ﴿۳۰﴾

او ځمکه وروسته له دغه (پيدايښت د اسمان) صافه وغوړوله (الله) دا (ځمکه).

تفسير: يعنې د ځمکې او د اسمان له منځه کوم يو وړاندې او کوم يو وروسته جوړ شوى دى؟ د دې په نسبت وړاندې له دې نه په بل کوم ځاى کې څه خبرې شوي دي، ځمونږ د دغه تفسير د «حم السجدة» سورت وګورئ !.

اوس الله أعلى شأنُهُ وأعظمَ برهانُهُ د ځمکې د غوړولو لږ څه نور تشريح داسې فرمايي:

أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعَاهَا ﴿٣١﴾

را ايستلي دي (الله) له دغې (ځمکې) څخه اوبه د دې، او واښه ورشو د دې.

تفسير: يعنې الله تعالى سيندونه او چينې بيولې دي، او د هغو اوبو په وسيله يې قسم قسم نباتات، واښه پيدا کړي دي.

وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا ﴿٣٢﴾

او غرونه (په مخ د ځمکې) ودرول ثابت محکم کړل (الله) هغه (غرونه).

تفسير: چې له خپل ځای څخه نه خوځيږي، او د ځمکې مخصوص اضطرابات او خوځېدل يې هم ورک کړي دي، او دغه ثبات د ځمکې؛ او جريان د اوبو پرې، او ايستل د محصولاتو ترې؛ کړي دي الله أكرم شأنُهُ وأعظم برهانُه.

مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ ﴿٣٣﴾

لپاره د نفعې ستاسې او لپاره د نفعې د چارپايانو ستاسې (ای بندګانو ځما !).

تفسير: يعنې که دا انتظام نه وي؛ نو ستاسې او ستاسې د حيواناتو چارې به څرنګه پوره کېدې؟ د دې ګردو شيانو له پيدا کولو څخه ستاسې د اړتياوو پوره کول، راحت او هوسايي رسول او نورې ګټې مراد دي، نو ښايي چې تاسو د هغه حقيقي منعم شکر اداء کړئ !.

فَإِذَا جَاءَتِ الطَّامَّةُ الْكُبْرَىٰ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ مَا سَعَىٰ ﴿٣٥﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ ﴿٣٦﴾

پس کله چې راشي آفت بلاء لويه (قيامت يا وخت د ورتګ د کفّارو جحيم ته، او د مؤمنانو نعيم ته؛). په هغه ورځ به ياد کړي انسان هغه څه چې کړي يې وي (که خير وي يا شر په دنيا کې). او څرګند (ښکاره) به کړی شي دوزخ هر هغه چاته چې ويني يې (د ليدلو خاوند وي).

تفسير: يعنې دوزخ به داسې په عام منظر کې راويست شي، چې هر ليدونکی به يې ووينې، او هيڅ يو غر او يوه پرده به په منځ کې نه وي.

فَأَمَّا مَن طَغَىٰ ﴿٣٧﴾ وَآثَرَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴿٣٨﴾

پس هر هغه چې سرکشي کړې وي (په کفر سره) او غوره کړی يې وي ژوندون لږ خسيس (پر آخرت باندې).

تفسير: يعنې دنيا ته پر آخرت باندې ترجيح ورکوي، او هغه ښه ګڼي او غوره کوي يې، او آخرت بالکل هيروي؛

فَإِنَّ الْجَحِيمَ هِيَ الْمَأْوَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَىٰ ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَىٰ ﴿٤١﴾

پس بېشکه دوزخ همدا (دوزخ د ده) د هستوګنې ځای دی. او هر هغه څوک چې ويريږي له ودرېدلو (په مخ د) رب خپل، او منع کړی يې وي نفس خپل له هوا فاحشاتو بدو غوښتنو څخه؛ نو بېشکه جنّت همدا (د ده) د هستوګنې ځای دی.

تفسير: يعنې هغه څوک چې د دې خبرې لامله ويريږي چې زه يوه ورځ د الله تعالى په مخ کې د حساب او کتاب لپاره ودرږم، او د دې وېرې لامله يې د خپل نفس په خواهش ناکاره کار ونه کړ، او د الله تعالى ګرد احکام يې ومنل، او له نواهيو څخه يې ځان وژغوره، نو د هغه ځای خامخا په جنّت کې دی.

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ﴿٤٢﴾

پوښتنه کوي له تا څخه (ای محمده ! منکران) د قيامت، چې کله به وي وقوع د هغه (قيامت).

فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرَىٰهَا ﴿٤٣﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَىٰهَا ﴿٤٤﴾

په څه کې يې ته (ستا څه کار دی) له ذکره پوهېدلو څخه د هغه (قيامت څخه، بلکه تا لره علم نشته). خاص رب ستا ته ده انتهاء د دغه (علم په قيامت چې کله به وي؟).

تفسير: يعنی د هغه پوره ورښول ستا کار نه دي که هر څومره پوښتنی وشي هيڅا ته دا پټه خبره ښکاره کيدونکی نه ده او ددی کار پوره علم الله تعالى ته معلوم دي.

إِنَّمَا أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخْشَىٰهَا ﴿٤٥﴾

بېشکه ته (ای محمّده) وېرووونکی يې د هغه چا چې ويريږي له (عذاب د) هغه (قيامت) نه.

تفسير: يعنې ای محمده ! ستا کار د قيامت د خبرو اورول او د خلقو وېرول دي، ګواکې ستا د ويرولو د نتيجې اعتبار يوائې د هغه کسانو په حق کې دی چې له هغو څخه د ګټې اخيستلو اميد وي، او اهليت يې ولري، که نه نا اهل سړی له انجامه غافل شوی، همداسې په فضولو بحثونو کې لويږي، چې قيامت به کله او په کوم تاريخ کې او په کوم کال کې واقع کيږي؟.

كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴿٤٦﴾

ګواکې دغه (منکران) په هغې ورځې کې چې ووينې دغه (قيامت داسې به ګڼي) لکه چې نه يې وو کړی څنډه (په دنيا يا قبورو خپلو کې) مګر (په قدر د) ماښام آخر د ورځې، يا په قدر د څاښت.

تفسير: يعنې اوس خو شور لګوي، چې د قيامت په راتلو کې ولې دومره ځنډ او ډيل وشو؟ ولې ژر نه راځي؟ مګر په هغه وخت کې به دوی ته څرګنده شي چې قيامت خورا ژر راغلی، او هيڅ معطّلي او ډيل په کې پېښ شوی نه دي.

تمّت سورة النازعات بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ عَبَسَ

«د (عبس) سورت مکي دی، (۴۲) آیته (۱) رکوع لري، په تلاوت کې (۸۰) په نزول کې (۲۴) سورت دی، وروسته د (النّجم) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

رسول أکرم صلی الله تعالی علیه وسلم د قریشو له ځینو غټانو سره د اسلام په نسبت څه خبرې کولې، او دوی یې پوهول، په دې منځ کې یو ړوند مسلمان عبد الله بن أمّ مکتوم رضي الله تعالی عنه د دوی په خدمت ور حاضر شو، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم توجّه یې ځانته ور اړوله چې: «یا رسول الله ! د دې آیت مراد څه دی؟ ماته له هغه څه یو څه راوښیئ همغسې چې الله تعالی تاته درښوولي دي !»، هغه د دې ړانده له دې بې وخته پوښتنې څخه لږ خپه شو، او ښایي چې د ده مبارک په زړه کې داسې کومه خبره هم تېره شوي وي، چې زه اوس په مهمّو خبرو کې مشغول او بوخت یم، که د قریشو دا غټان په ښه ډول وپوهولی شم؛ ځوندي چې دوی د اسلام په لوري راشي، او د دوی له سببه نور ډېر کسان هم مسلمانان شي، او حال دا دی چې عبد الله بن أمّ مکتوم مسلمان دی، او د هغه لپاره نور ډېر وختونه هم شته چې په هغو کې خپلې داسې پوښتنې وکړي او تعلیم حاصل کړي، هغه نه ځوري چې که زه له دغو بااثرو او بارسوخو خلقو څخه سترګې واړوم، او ده ته التفات وکړم؛ نو ځما دا وضعیت به په هغو باندې لږ شاق تېر شي، او شاید چې هغوی به بیا ځما خبرو ته لکه اوس غوږ نه نیسي، ځکه یې دا چې دوی منقبض شول، او د انقباض نښې د دوی په وچولي (تندي) کې ښکاره شوې، په دې خبره باندې دا آیات نازل شول، په روایاتو کې راغلي دي چې وروسته له دې کله به چې دغه ړوند صحابي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخ کې راتللو؛ نو دوی به د ده زیات تعظیم کاوه، او ورته ویل به یې: «مرحبًا بمن عاتبني فیه ربي».

عَبَسَ وَتَوَلَّىٰ ۝١ أَن جَاءَهُ الْأَعْمَىٰ ۝٢

وچولی (تندی) تریو کړ (محمد) او مخ یې وګرځاوه. د دې لامله چې راغی ده ته ړوند.

تفسیر: یعنې د پیغمبر په وچولي (تندي) کې د یوه ړانده له راتللو څخه ځونځې ولوېدې، او خپل مخ یې ترې واړاوه، او ښایي چې ده ته د دې ړانده د معذورۍ د مات زړه او د طلب صادق لحاظ کول ډېر په کار وو.

وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكَّىٰ ۝٣ أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ الذِّكْرَىٰ ۝٤

او څه شي پوه کړی یې ته (ای محمده له احواله د دې ړانده) ښایي چې هغه (ړوند) به پاک شي (په تعلیم د تا له معاصیو له بدو اخلاقو). یا به ذکر پند واخلي پس نفع به ورسوي ده ته ذکر پند (د تا).

تفسير: يعني هغه رڼوند طالب صادق وه، تاسي ته څه معلومه ده چې ستاسي د توجّه له وجې به د هغه حال زيات اصلاح کېده، او د هغه نفس به لا پاکېده، يا به ستاسي کومې خبرې د دوی په غوږونو کې ځای نيوه، ښايي چې ستاسي په اخلاص پوهولو څخه به هغه په يوه شي پوهېده، او بله ورځ به ورته په کار ورتله.

أَمَّا مَنِ ٱسْتَغْنَىٰ ۝٥ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ۝٦ وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ۝٧

او هر هغه څوک چې استغناء يې کړې ده (پروا نه کوي د هدايت). نو ته هغه ته قصد کوې (د هغه د مسلمانۍ په فکر کې يې). او نشته پر تا باندې هيڅ الزام چې هغه پاک نشي (په اسلام سره).

تفسير: يعني هغه خلق چې د خپلې مغروری او متکبّری او لويی په سبب د حق پروا نه لري، او لويي هغوی ته اجازه نه ورکوي چې الله تعالى او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته سر ښکته کړي؛ ته ولې په هغوی پسې ګرځې، او غواړې چې هرومرو هغوی مسلمانان شي، او د هغوی د اسلام اثر په نورو هم ولويږي، حال دا دی چې د الله تعالى له پلوه پر تاسې باندې هيڅ يو الزام نشته، چې دا متکبر مغرور او لويي خوښوونکی سړی ولې په لاره نه دی راغلی؟ په تاسې دا فرض وو چې هغوی ته دعوت او تبليغ وکړئ، او دا کار تاسې وکړ، زيات له دې نه د دې بې پروا متکبّرانو په فکر کې په دې اندازې لوېدل په کار نه دي، چې ربښتيني طالبان او مخلص ايمانداران ستاسې له توجّه څخه بې برخې پاتې شي.

وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسْعَىٰ ۝٨ وَهُوَ يَخْشَىٰ ۝٩

او هر هغه څوک چې راشي تاته په تلوار سره (لپاره د طلب د خير). حال دا چې دی ويريږي (له الله نه).

تفسير: يعني دغه د خير طالب عبد الله بن أمّ مكتوم رضي الله تعالى عنه له الله جلّ جلاله څخه ويريږي.

فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّىٰ ۝١٠

پس ته (ای محمده)له هغه (رڼوند طالب الخير څخه) مخ ګرځوې (مشغولېږې، تغافل کوې، له کفّارو سره خبرې کوې).

تفسير: حال دا دی چې له همداسې سړي څخه ګټه واخلئ، او د اسلام لپاره کار وکړئ، وايي چې همدې رانده صحابي ابن أمّ مكتوم ځغره واغوسته او د اسلام بيرغ يې په اوږه کښوده، او د قادسيې په جهاد کې شريک شو، تر دې چې په جهاد کې يې شهادت وموند، رضي الله تعالى عنه وأرضاه.

كَلَّآ إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ۝١١ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ۝١٢

مه کوه بيا داسې (ځکه چې) بېشکه دا (سورت) يو تذکره پند دی (له جانبه د الله ټولو ته). نو هغه څوک چې غواړي ودې مني دغه (پند د قرآن).

تفسير: يعني که متکبّر اغنياء قرآنکريم ونه لولي، او د هغه پند ته غوږ کښېږدي؛ نو ځانونو ته ضرر رسوي، ځکه چې قرآن مجيد د هغو څه پروا نه لري، نه تاسې ته ښايي چې دومره زيات د هغوی فکر وکړئ، پر تاسې باندې دومره دي چې خپل عمومي تبليغ او پند ووايئ، که څوک خپله ګټه غواړي؛ نو ځان دې پرې پوه کړي، او ودې لولي، او عمل دې پرې وکړي.

فِي صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴿١٣﴾ مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ ﴿١٤﴾

(دغه قرآني آيات ليکلی شوي دي) په پاڼو عزتناکو (عند الله په لوح محفوظ کې). چې پورته دي په قدر او عظمت کې، پاک کړی شوي دي (له رسېدو د شياطينو او له نورو ټولو عيبونو نه).

تفسير: يعنې آيا د دې مغرور او لويي خوښوونکي له منلو څخه د قرآن عزّت او وقعت زياتيږي؟ قرآن مجيد خو هغه پاک کتاب دی چې آيتونه يې په اسمان کې نهايت معزّز او لويه مرتبه لري، او په پاکو پاڼو کې ليکلی شوي دي، او په ځمکه کې هم اخلاصمن مسلمانان د هغه خورا زيات عزّت او احترام ساتي، او په ډېر تقديس او تطهير يې په لوړو ښو ځايونو کې وړي.

بِأَيْدِي سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾

په لاسونو د (ملائکو). ليکونکيو عزتمنو نېکو.

تفسير: يعنې هلته يې پرښتې ليکي، او سم له هغه سره وحي راځي، چې هغوی د قرآن کريم د هر راز تزييد، تنقيص، تحريف او تبديل څخه ځانونه ژغوري، او هغه تل همغسې پاک ساتي.

قُتِلَ الْإِنسَانُ مَا أَكْفَرَهُ ﴿١٧﴾

لعنت کړی شوی دی په (کافر) انسان، چې څه شي کافر کړی دی (باعث کړی يې دی په کفر).

تفسير: يعنې د قرآنکريم غوندې د لوی نعمت هيڅ قدر او عزّت يې ونه پېژنده، او د الله تعالی حق يې پر ځای نه کړ، او له دې نه يې هيڅ اندېښنه ونه کړه چې:

مِنْ أَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهُ ﴿١٨﴾ مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُ فَقَدَّرَهُ ﴿١٩﴾ ثُمَّ السَّبِيلَ يَسَّرَهُ ﴿٢٠﴾

له څه شي څخه پيدا کړی دی (الله) هغه (انسان؟ فرمايي الله) له نطفې (قطرې د مني) څخه پيدا کړی دی (الله) دغه (انسان) پس په اندازه يې کړ ده لره (هيئت او صورت، اندامونه د مور په نس کې). بيا يې لاره ور اسانه کړې ده ده ته (لاره د وتو د ده له ځايه د مورې).

تفسير: يعنې که لږ څه دغه انسان خپل اصل ته فکر وکړي، چې دی له څه شي څخه پيدا شوی دی؟ د يوه ناڅيز او بې قدر څاڅکي له اوبو څخه پيدا شوی دی، چې هيڅ حس، شعور، حسن، جمال، عقل، کمال، ادراک، واک او نور په کې نه وو، او دا ګرد شيان الله تعالی له خپلې مهربانۍ څخه وربښلي دي، چې اوس يې عمومي حقيقت داسې ښکاري، آيا ده ته دا لويي، غرور څه مناسبت لري؟.

الله جل جلاله ده ته لاسونه، پښې، او نور ګرد اعضاء او قواوې له هم هغه يوه څاڅکي اوبو څخه د مور په نس کې د «أحسن الخالقين» توب په اقتضاء په يوه ځانته شکل او خاص اسلوب او اندازه ورجوړ کړي، او هيڅ يو شی يې نامناسب او خراب او خلاف له حکمت نه دي ورروغ کړي، بيا يې لار ور اسانه کړې ده ده ته، يعنې د ايمان او د کفر، د ښو او د بدو، پوهـه يې ورکړه، يا دا چې د مور له نس څخه يې په اسانۍ سره راوويست.

ثُمَّ أَمَاتَهُ فَأَقْبَرَهُ ﴿٢١﴾

بيا (الله) مړ کړ هغه (انسان لره) نو په قبر کې يې کښود ده لره.

تفسير: يعنې وروسته له مړينې څخه د هغه مړي د خښولو هدايت يې ورکړ، تر څو چې د ژوندیو په نزد بې حرمته نه شي.

ثُمَّ إِذَا شَاءَ أَنشَرَهُ ﴿٢٢﴾

بيا هر کله چې اراده وفرمايي (الله د بيا ژوندیتوب؛ نو) ژوندی کوي ده لره (لپاره د جزاء)

تفسير: يعنې هغه الله تعالى چې يو ځلې انسان ته حيات او بيا ممات ورکوي او خښوي يې؛ اختيار لري چې هر وخت يې وغواړي بيا يې ژوندی کړي، او له قبره يې وباسي، ځکه چې اوس هم هيڅا د هغه قدرت نه دی سلب کړی.

كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَا أَمَرَهُ ﴿٢٣﴾

بيخي نه دی کړی (کافر) هغه شی چې امر حکم کړی دی ده ته (دغه الله د هغه).

تفسير: يعنې سړي هيڅ کله د خپل خالق حق نه دی پېژندلی، او هر څه حکم يې چې ورکړی وي؛ تر اوسه پوره يې په ځای نه دی راوړی.

فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ إِلَىٰ طَعَامِهِ ﴿٢٤﴾

نو ودې ځکوري انسان خپل طعام ته.

تفسير: ړومبی د انسانانو د پيدا کېدلو او مړ کېدلو ذکر وو، اوس د هغه د ژوندون او د بقاء د سامان داسې يادونه کوي چې:

أَنَّا صَبَبْنَا الْمَاءَ صَبًّا ﴿٢٥﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقًّا ﴿٢٦﴾

بېشکه مونږ تويې کړي دي اوبه (له ورېځو څخه) په تويولو سره. بيا څېرې کړې ده مونږ ځمکه په ځيرولو سره.

تفسير: يعنې د يوه تنکي واښه څه طاقت دی چې ځمکه ځيري کوي او زرغونيږي، دا د الله تعالى قدرت دی، چې ځمکه ځيروي، او هغه او نورې راز راز غلې، دانې، مېوې او نور ترکودې او نباتات ځنې راوباسي.

فَأَنبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾ وَعِنَبًا وَقَضْبًا ﴿٢٨﴾ وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ﴿٢٩﴾ وَحَدَائِقَ غُلْبًا ﴿٣٠﴾ وَفَاكِهَةً وَأَبًّا ﴿٣١﴾ مَّتَاعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ ﴿٣٢﴾

بيا مو زرغونې کړې دي په هغې (ځمکې) کې دانې. او انګور او ترکاري. او زيتون خونه او خرما. او باغونه ځکن (له جهته د ډېروالي د ونو نه). او (تازه) مېوې او (وچې مېوې يا) واښه. (ومو کړل دغه ټول ځيزونه) لپاره د نفع د تاسې اود حيواناتو د تاسې.

تفسير: يعنې ځينې شيان ستاسې په کار درځي، او ځينې ستاسې د حيواناتو پکاريږي.

فَإِذَا جَآءَتِ الصَّآخَّةُ ﴿٣٣﴾

نو کله چې راشي سخت اواز غوږونه کنړوونکی (د دویمې نفخې).

تفسیر: یعنې داسې سخت غږ چې په هغه غوږونه کنړي، له دې څخه مراد د نفخ الصور غږ دی.

يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾

هغه ورځ چې تښتي به سړی له خپله وروره. او له خپلې مور او له پلاره. او له خپلې ملګرې (ښځې) او له خپلو ځامنو. هر سړي لره له هغو څخه په دغې ورځې کې به یو حال وي چې بې پروا کوي یې (له نورو له احوالو نه).

تفسیر: یعنې په هغې ورځې کې به هر څوک د خپل ځان په فکر کې وي، هیڅ یو له احبابو او خپلوانو څخه به د بل په فکر کې نه وي، بلکه له دې وېرې چې بل څوک ځما نیکي وانخلي، یا د خپل حق غوښتنه ونه کړي؛ یو له بله تښتي.

وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾

ځینې مخونه به په دغې ورځې کې روښانه (وي د ایمان له رڼا). خندېدونکي خوشاله به وي (په موندلو د کرامت چې مؤمنان دي).

تفسیر: یعنې د مؤمنانو له ځېرې څخه به خندا اوخوشالي ښکاري، چې شکر له عذابه خلاص او د الله تعالی په کرامت سره مو اختصاص وموند، او د ایمان له نوره به یې مخونه روښانه وي، او له ډېره مسرته به خاندي، او خوشاله به اوسي.

وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾

او ځینې مخونه په دغې ورځې کې په دوی باندې به ګرد وي. پټ کړي به وي هغه مخونه (ګرد) ظلمت او توروالی.

تفسیر: یعنې د کافرانو په ځېرو باندې به د غم او کدورت او خپګان دوړې برېښي، او د فسق او فجور ظلمت او تیاره به یې ښې تورې کړي

أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾

دغه ټول (تورمخي) همدوی دي (بې شرم) کافران فاجران.

تفسیر: هر کله چې دوی کافر او د الله تعالی احکامو څخه منکر وو، او مختلف جرمونه یې کول؛ نو مخونه به یې تور او ګرد به پټ کړي وي.

تمّت سورة عبس بفضل الله تعالی ومنّه وکرمه.

سُورَةُ التَّكْوِيرِ

«د (التكوير) سورت مكي دی، (۲۹) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۸۱) په نزول کې (۷) سورت دی، وروسته د «تبّت» د سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ﴿١﴾

کله چې (د) لمر (رڼا) ونغښتله شي (نور یې لاړ شي).

تفسیر: ګواکې د لمر هغه اوږدې شغلې به چې تودوخې رڼا ورڅخه وځي؛ ونغښتلی شي، او لمر به بې نوره شي، او د خیدک (پنبر) چکی ته به ورته وي، یا به هیڅ نه ښکاري.

وَإِذَا النُّجُومُ انكَدَرَتْ ﴿٢﴾

او کله چې ستوري خړ شي (یا راولویږي په ځمکه).

تفسیر: یعنې ستوري به راولویږي، او رڼا به نه لري.

وَإِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ ﴿٣﴾

او کله چې غرونه روان کړل شي.

تفسیر: یعنې غرونه به له خپلو ځایونو څخه روانیږي، او په هوا کې به الوځي او ګرځي به.

وَإِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ ﴿٤﴾

او کله چې د لسو میاشتو بلاربې اوښې خوشې کړی شي (اوښبانه به ورسره نه وي).

تفسیر: اوښ د عربو له ښو څاروو څخه دی، او هغه اوښه چې د لسو میاشتو بلاربه وي، او له هغې د شودو او جونګې ځېرېدلو هیله نژدې وي، پر دوی ډېر ګرانه وي، خو د قیامت د ویروونکې زلزلې په وخت کې به د هغه نفیس او عزیز او ګران مال پوښتنه به هم ونه کړه شي، یا د هغه خاوند به دغومره خپه او پرېشانه وي چې د داسې عزیز او ګران مال له احواله به غافل وي.

وَإِذَا الْوُحُوشُ حُشِرَتْ ﴿٥﴾

او کله چې وحشي ځناوران راټول کړل شي (لپاره د قصاص اخیستو یو له بله).

تفسیر: ځینو مفسّرینو د «حشر» معنی مړه کول او ځینو مړه کول بیا ژوندي کول لیکلي دي، والله أعلم.

وَإِذَا ٱلْبِحَارُ سُجِّرَتْ ﴿٦﴾

او کله چې بحرونه سیندونه سره ګډ کړل شي (تریخ له خوارې سره یا ډېر سخت ګرم شي، یا وچ کړی شي؛ نو په کې به پاتې نشي یو څاڅکی اوبو).

تفسیر: یعنې د لویو لویو سیندونو اوبه به له ډېرو خوټېدلو څخه د بخار او بړاس په ډول کیږي، چې د هغو له تودوخې څخه به په محشر کې کفارو ته سخت ربړ پیښیږي، او د تناره په شان به د سیندونو له منځه سخت سوځوونکی اور او د بخار او بړاسونو غړوسکې پورته کیږي، یا کله چې دریابونه بل کړ شي؛ نو وګرځي اور.

وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتْ ﴿٧﴾

او کله چې نفسونه جوړه کړل شي (پیوست کړل شي ارواح له جثو سره، یا یو ځای کړل شي هر څوک له مثل خپل سره، نېکان له نېکانو سره، بدان له بدانو سره).

تفسیر: یعنې مسلمان له مسلمان سره او کافر له کافر سره، بیا هر راز عمل کوونکی که ښه وي که بد؛ لکه له خپل همجنس عمل کوونکي سره به مله شي، د عقائدو، اعمالو، اخلاقو او نورو په اعتبار به له هر یوه څخه ببل ببل ټولګي جوړیږي، یا دا چې ارواح به له خپلو اجسامو سره جوړه کړل شي.

وَإِذَا ٱلْمَوْءُۥدَةُ سُئِلَتْ ﴿٨﴾ بِأَىِّ ذَنۢبٍ قُتِلَتْ ﴿٩﴾

او کله چې له ژوندۍ ښخې کړی شوې څخه وپوښتېدل شي. (داسې) چې په کوم ګناه وژلې شوې ده (دا جینۍ).

تفسیر: د جاهلیت په عربو کې قاعده وه، چې پلار به خپله جینۍ په ډېرې بېرحمۍ سره ژوندۍ په ځمکه کې خښوله، ځینو به د نېستۍ او غریبۍ، یا د هغې د واده د اخراجاتو له وېرې داسې کول، او ځینې به له دې شرمېدل چې څنګه به خپله جینۍ بل چاته ورکړم چې هغه مې ځوم وباله شي، قرآن کریم خبر ورکړ چې د دې مظلومانو په نسبت به هم په قیامت کې پوښتنې وشي، چې په کومه ګناه ژوندۍ خښې شوي دي؟ داسې یې مه ګڼئ چې دا مو اولاد دی، په دوی باندې مو هر څه چې زړه غواړي هغه کولی شئ؛ بلکه د اولادتوب له پلوه ستاسو دا جرم لا درنیږي.

وَإِذَا ٱلصُّحُفُ نُشِرَتْ ﴿١٠﴾ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ كُشِطَتْ ﴿١١﴾

او کله چې اعمالنامې وغوړولی خپرې کړی شي. او کله چې اسمان د پوستکي په شان وویستلی شي (له خپله ځایه).

تفسیر: لکه چې د حیواناتو له حلالولو او پوستکي وښکلو څخه وروسته د هغه ګرد اعضاء او رګونه او پلې او نور ښکاري؛ همداسې د اسمان له پرانیستلو څخه وروسته ګرد پاس شیان لیدل کیږي.

وَإِذَا ٱلْجَحِيمُ سُعِّرَتْ ﴿١٢﴾ وَإِذَا ٱلْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ ﴿١٣﴾

او کله چې دوزخ بلې لمبې کړی شي (کافرانو ته). او کله چې جنّت نژدې کړ شي (مؤمنانو ته).

تفسیر: یعنې کفّارو ته دوزخ په ډېر زور او شور او بلو لمبو سره ورښکاره کاوه شي، او جنّت متّقیانو ته ورنژدې کیږي، چې د هغه ډول او سینګار به جنّتیانو ته خورا ښه خوښوونکی او مسرّت ښوونکی وي، نو په دغه وخت کې:

عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّآ أَحْضَرَتْ ﴿١٤﴾

پوه به شي هر نفس په هغه شي چې حاضر کړی يې وي (له خير او له شره).

تفسير: يعنې هر يوه ته به دا پته ولګيږي، او ور معلومه به شي چې له ده سره د نېکۍ يا د بدۍ څومره پانګه او سرمايه شته، چې له ځان سره يې راوړي وي.

فَلَآ أُقْسِمُ بِٱلْخُنَّسِ ﴿١٥﴾ ٱلْجَوَارِ ٱلْكُنَّسِ ﴿١٦﴾

نو قسم خورم زه په (ستوريو) ببرته ګرځېدونکيو سمو تلونکيو پټېدونکيو باندې.

تفسير: ډېر ستوري لکه زُحل، مشتري، مريخ، زهره، او عطارد کله له مشرق څخه د مغرب په لوري، کله سم کله کاږه ځي، کله ګرځندي او کله ورو خوځيږي، کله د لمر کله د سپوږمۍ څنګ ته نژدې کيږي، بيا څو ورځې پټيږي.

وَٱلَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ ﴿١٧﴾ وَٱلصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ ﴿١٨﴾

او (قسم خورم زه) په شپې کله چې راوخيژي مخ راوګرځوي (په تيارو خپلو سره). او (قسم خورم زه) په صبا کله چې ساه ووهي راوخيژي (روښانه شي).

تفسير: يا کله چې شپه راشي يا لاړه شي، د «عسعس» لفظ دوه معناوې لري، د پاس قسمونو جواب دادي چې الله أكرم شأنه و أعظم برهانه داسې فرمايي:

إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿١٩﴾ ذِى قُوَّةٍ عِندَ ذِى ٱلْعَرْشِ مَكِينٍ ﴿٢٠﴾ مُّطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ ﴿٢١﴾

بېشکه دا قرآن خامخا قول وينا د رسول عزتمن (جبريل) ده. چې خاوند د قوّت زور په نزد د څښتن د عرش، مرتبې والا دی. منلی شوی دی هلته امين دی.

تفسير: دا د جبرئيل عليه السلام صفتونه دي، يعنې قرآنکريم چې د الله جل جلاله له لوري مونږ ته رارسېدلی دی، د وصول دوه وسيلې لري، يوه وحي راوړونکې پرښته جبريل عليه السلام، دويم ځمونږ پيغمبر عربي محمد صلى الله عليه وسلم، د دوی دواړو صفتونه داسې دي چې د هغو له ښکاره کېدلو څخه بيا هيڅا ته د قرآن مجيد په منزل من الله او صداقت کې هيڅ شک او شبهه نه پاتې کيږي، د يوې خبرې په رښتيا منلو کې لوی دليل دا دی چې راوي يې په اعلى درجه ثقه، عدل، ضابط، حافظ او أمين وي، او له هغه چا څخه چې روايت کوي؛ د ده په مخ کې عزّت او حرمت لرونکی وي، او خورا معتبر ثقات د هغه په امانت باندې ډاډه وي، کلي اعتماد ولري، او د هغه خبرې بې له وړاندې وروسته کولو څخه د زړه له کومې ومني، دا ګرد صفتونه په جبريل عليه السلام کې شته، عزتمن او کريم هغه څوک دي چې متقي او ډېره پاکي ولري، او له الله تعالى څخه خورا وېرېدونکی وي: ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ﴾ په حديث کې دي: «الكرم التقوى».

﴿ذِى قُوَّةٍ﴾ اشاره ده کامل حفظ، ضبط او د بيان کامل قوت ته، او د الله تعالى په مخ کې هغه د لويې درجې خاوند دی، يعنې د ګردو پرښتو څخه د الله تعالى په دربار کې نژدې ځای لري، د اسمان پرښتې د هغه حکم مني، ځکه چې هغوی ګردې د هغه په امانت اعتبار او عزّت باندې خبرې دي، دا خو د ملکې رسول خبره ده، اوس د بشري رسول خبرې هم واورئ.

وَمَا صَاحِبُكُمْ بِمَجْنُونٍ ﴿٢٢﴾

او نه دی صاحب ملګری ستاسې (محمد) لېونی (لکه چې پرې ګمان کوئ تاسو، بلکه ښه پوه او هوښیار دی).

تفسیر: یعنې له بعث پخوا تر خلوښتو کلونو پورې تاسې له (محمد) سره لیدلي دي، او په دې اوږده موده کې مو د هغه د پټو او ښکاره وو خبرو تجربه کړې ده، خو هیڅکله مو د هغه فریب، دروغ او لېونتوب نه دی لیدلی، او تل مو د هغه د رښتیا، امانت، عقل او پوهې اعتراف او ستاینه (صفت) کاوه، اوس نو ولې بې سببه هغه ته لېونی او دروغجن ویل کیږي؟ لکه چې دا ستاسې هغه رفیق او ملګری نه دی؟ چې د هغه ګرد احوال تاسې ته ښکاره دي، نو اوس داسې سړي تـه لېونـی ویل آیا لېونتوب نه دی؟ بلکه لېونتوب دی !.

وَلَقَدْ رَاٰهُ بِالْاُفُقِ الْمُبِيْنِ ﴿٢٣﴾

او خامخا په تحقیق لیدلی وو (محمد) هغه (جبریل د اسمان) په څنډه (غاړه) روښانه کې.

تفسیر: یعنې په مشرقي څنډه کې د هغې پرښتې یعنې جبریل علیه السلام ښه یې په اصلي صورت او ښه شان سره ولیده.

وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِيْنٍ ﴿٢٤﴾

او نه دی دغه (محمد د وحي) پر پټو خبرو باندې بخیل (چې پټوي یې او تعلیم د هغې تاسې ته نه کوي).

تفسیر: یعنې دا پیغمبر تاسې ته د هر راز پټې خبرې که په تېره که په راتونکي پورې اړه لري خبر درکوي، یا د الله تعالی د اسماوو او صفاتو، یا د شرعي احکامو، یا د مذاهبو د حقیقت او بطلان، یا د جنّت او دوزخ د خبرو، یا له مړینې څخه وروسته د پېښو او په هغو پورې تړلې خبرو په درښوولو کې لږ بخل هم نه کوي.

وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ﴿٢٥﴾

او نه ده دا (قرآن) خبره د شیطان رټلي، ویشتلی شوي (په شُغلو سره).

تفسیر: هیڅکله شیطان د هغو ښو چارو ښوونه نه کوي، چې په هغو کې د بنیادمانو ګټه او د هغه ملعون تقبیح او مذمّت وي، بلکه دغه (قرآن مجید) د الله أکرم شأنُه وأعظم برهانُهُ حق کلام دی.

فَاَيْنَ تَذْهَبُوْنَ ﴿٢٦﴾

نو چېرته ځئ تاسو (ای منکرانو کافرانو په دې انکار او په څنګ کولو کې له قرآنه).

تفسیر: یعنې کله چې دروغ، لېونتوب، تخیل، توهم، کهانت او نور ګرد احتمالات لرې شول؛ نو پرته له حق او رښتیا څخه نور څه پاتې شول؟ بیا نو ای منکرانو دا سمه صافه لاره ولې پرېږدئ؟ او بې لارې ولې ځئ؟.

اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٧﴾

نه دی دا (قرآن) مګر ذکر پند دی (له جانبه د الله) لپاره د خلقو (انس وي که جن).

تفسير: هغه ګرد احتمالات چې تاسو د قرآنکريم په نسبت پيدا کړي؛ هغه ګرد سره غلط دي، که تاسې د دې قرآن په خبرو او ښوونو ښه فکر او جاج ووهئ؛ نو دا به درښکاره شي چې دغه قرآن ټول جهان ته ډېر ښه لار ښوونکی او مکمّل دستور العمل دی، چې په عمل کولو يې د دواړو دارينو فلاح او ګټې په لاس راځي، نه دی دا قرآن مګر ذکر پند دی له جانبه د الله أكرم شأنُهُ وأعظم برهانُهُ لپاره د خلقو مخصوصًا.

لِمَنْ شَآءَ مِنكُمْ أَن يَسْتَقِيمَ ﴿٢٨﴾

هغه چاته چې غواړي قصد وکړي له تاسې د سمبدلو خپلو (داسې چې سم برابر لاړ شي پر لاره د الله تعالى باندې).

تفسير: يعنې دغه قرآن مجيد په تېره بيا هغو لره پند دی چې په سمه لاره تلل غواړي، کوږ تګ او عناد يې نه وي خوښ؛ ځکه چې داسې سړی له داسې پند ځخه ډېره ګټه اخلي.

وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٩﴾

او نه شئ قصد کولی تاسې (د سمې لارې) مګر هغه چې اراده وفرمايي الله (د قصد د تاسې د سمې لارې)، چې رب پالونکی د (ټولو) عالميانو دی.

تفسير: يعنې پخپله قرآنکريم پند دی، ولې تأثير يې د الله تعالى په مشيت پورې اړه لري، چې ځينو باندې اثر کوي، او په ځينو نور باندې د ځينو نورو حکمتونو په سبب څه اثر نه کوي.

تمّت سورة التكوير بفضل الله القدير، فلله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الانفِطَارِ

«د (الانفطار) سورت مکّي دی، (۱۹) آیته یوه رکوع لري، په نزول او په تلاوت په دواړو کې (۸۲) سورت دی، وروسته د (النّازعات) له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

إِذَا السَّمَاءُ انفَطَرَتْ ﴿۱﴾ وَإِذَا الْكَوَاكِبُ انتَثَرَتْ ﴿۲﴾ وَإِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ﴿۳﴾

کله چې اسمان وچوي څیري شي. او کله چې ستوري راولویږي، تیت په تیت (ګډوډ) شي. او په هغه وخت کې چې دریابونه ګډ شي (یو له بله سره او ټول یو دریاب شي).

تفسیر: یعنې د ترخو اوبو سیندونه به سره وخوتېږي، او د دې تندوبي له سببه به ترخې او خوږې اوبه سره ګډې وډې شي.

وَإِذَا الْقُبُورُ بُعْثِرَتْ ﴿۴﴾

او کله چې قبرونه سره څیري لاندې باندې کړل شي (او مړي ژوندي ترې راپورته کړل شي).

تفسیر: یعنې هغه شیان چې د ځمکې په منځ کې وي؛ د باندې به راغورځي، او مړي به له خپلو قبرونو څخه راووځي، هر کله چې وشي دا کارونه؛ قیامت قائمیږي نو:

عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ﴿۵﴾

پوه به شي هر نفس (په دغه وخت کې) په هغه خیر او شر خپل باندې چې وړاندې یې لېږلی وي، او چې وروسته یې پرېښی وي.

تفسیر: یعنې هغه ښې او بدې چارې چې کړي یې وي، یا یې نه وي کړې، د خپل عمر او منځ په اول کې یې کړې وي، یا په آخر کې د هغې ننبې ورځخه پاتې وي، او که نه وي پاتې؛ هغه ګرد هلته د ده په مخ کې راځي.

يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ ﴿۶﴾

ای انسانه (کافره !) څه شي مغروره کړی یې ته پخپل رب کریم باندې (چې کافر شوی یې پرې).

تفسیر: یعنې هغه کریم رب آیا د دې خبرې وړ وو چې ته د خپل جهل او حماقته د هغه په حلم او کرم باندې ډاډه شوې، سر به دې ورځنې غړاوه؟.

الَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّاكَ فَعَدَلَكَ ﴿۷﴾

هغه (کریم رب) چې پیدا کړی یې ته، نو برابر کړی یې ته (یعنې اندامونه یې پوره درکړي دي) پس برابر معتدل کړی یې ته (په خلقت کې).

تفسير: يعنې پيدا يې کړ يو لاس په اندازه د بل سره، او يوه ستر ګه په مقدار د بلې سره، په دې کې اشارت دی دې ته چې هر کله دغه رب قدير په دغه شان سره قدرت لري؛ نو قادر دی په بيا پيدا کولو سره لپاره د حساب او کتاب، او جزاء او سزا.

فِيٓ أَيِّ صُورَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ۝٨

په هر شان (کامل) صورت سره چې ويې غوښته ترکيب؛ پيوند يې کړې ته.

تفسير: يعنې د ګردو په ښو (صورتونو) کې يې لږ او ډېر توپير او تفاوت پيدا کړ، او هر يوه ته يې ښل رنګ، شکل او ډول عنايت کړ، او په مجموعي ډول سره يې انسانانو ته د نورو ساکښانو (جاندارو) په نسبت ښه ښه (شکل) ورکړه.

كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُونَ بِٱلدِّينِ ۝٩

نه دی (دا غرور ستا مناسب)، بلکه دروغ وايئ تاسې ورځې د جزاء ته.

تفسير: يعنې د تېروتلو بل هيڅ سبب نشته، تاسې چې د جزاء ورځ نه منئ؛ نو ځکه هر شی مو چې زړه غواړي هغه کوئ.

وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَٰفِظِينَ ۝١٠ كِرَامًا كَٰتِبِينَ ۝١١ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ۝١٢

حال دا چې بېشکه په تاسې باندې خامخا ساتونکې ملائکې (د عمل، مقرري دي). عزتمنې (په نزد د الله) ليکونکې (د اعمالو د تاسې). پوهيږي (دغه ملائکه) په هغه څه چې کوئ يې تاسې.

تفسير: يعنې دغه ملائکې چې کرام الکاتبين نوميږي، د الله تعالى داسې عزتمنې بندګانې دي، چې نه خيانت او درغلي کوي، او نه کوم کار نالېکلی پرېږدي، او نه له هغوی څخه ستاسې کارونه پټيږي.

إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِى نَعِيمٍ ۝١٣

بېشکه چې ابرار (نېکان ـ مؤمنان) خامخا په نعمتونو (د جنّت) کې دي.

تفسير: چې هلته به تل هر راز بخښونه او نعمتونه مومي، او تل به خوشاله او آرام وي، او د هيڅ يوه شي غم او اندېښنه به د جنّتيانو سره نه وي، او نه به يې له جنّت څخه د وتلو او د راحت له قلّته څه پروا وي.

وَإِنَّ ٱلْفُجَّارَ لَفِى جَحِيمٍ ۝١٤ يَصْلَوْنَهَا يَوْمَ ٱلدِّينِ ۝١٥ وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَآئِبِينَ ۝١٦

او بېشکه چې فُجّار بدکاران (کافران) خامخا په دوزخ کې دي. ننوځي دوی په هغه کې په ورځې د جزاء کې. او نه به وي دوی هيڅ له هغه (دوزخ) څخه پټېدونکي.

تفسير: يعنې نه به په تېښته له دوزخه جلا کېدی شي، او نه به له ننوتلو څخه وروسته له هغه ځای ووځي، بلکه تل به هلته په کې وي.

وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا يَوْمُ ٱلدِّينِ ۝١٧ ثُمَّ مَآ أَدْرَىٰكَ مَا يَوْمُ ٱلدِّينِ ۝١٨ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْـًٔا ۖ

او څه شي پوه کړی يې ته څه ده ورځ د انصاف جزاء. بيا څه شي پوه کړی يې ته څه ده ورځ د انصاف جزاء (يعنې بل څوک پرې نه پوهيږي بې له الله نه. د جزا ورځ ده) هغه ورځ چې نه به وي مالک نشي کولی هيڅوک له هيڅا سره هيڅ شی (د نفعې او د ضرر).

تفسير: يعنې هومره چې فکر او جاج ووهئ، او په غور او خيال کې ډوب لاړ شئ؛ بيا به هم د دې وهروونکې ورځې په پوره کيفيت باندې نه پوهېږئ، خو لنډه يې دا چې دومره وپوهېږئ چې په هغه ورځ به دا ټولې خپلوې او خپښې، اشنايې او يارانې ورکې شي، او هر سړی به «نفسي ! نفسي !» ناړې وهي، هيڅوک به پرته دمالک الملک له امر څخه د بل چا شفاعت نه کوي، عاجزي، چاپلوسي، صبر، او استقلال او نور هيڅ کار نشي کولی «الا من رحم الله».

وَالْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ ﴿١٩﴾

او امر حکم په هغه ورځ کې خالص الله لره دی.

تفسير: يعنې لکه چې په دنيا کې د ټولواک (حاکم) او باچا حکم په رعيّت باندې، او د مور او پلار خبره په اولادو باندې، او د بادار وينا په نوکرانو چليږي؛ په هغه ورځ کې به دا ټول حکمونه پای ته رسيږي، او د هيڅا امر په بل چا باندې نه چليږي، او پرته د هغه مطلق شهنشاه او لوی ستر ټولواک (حاکم) له احکامه ځنې بل څوک سا هم نشي وښکلی، او هيڅ قوّت او قدرت به نه لري.

تمّت سورة الانفطار بفضله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ المُطَفِّفِينَ

«د (المطفّفين) سورت مکّي دی، (۳۶) آيتونه يوه رکوع لري، په تلاوت کې (۸۳) په نزول کې (۸۶) سورت دی، وروسته د (العنکبوت) له سورته نازل شوی دی، او د مکّي سورتونو آخري سورت دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ ۝١ الَّذِيْنَ اِذَا اكْتَالُوْا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُوْنَ ۝٢ وَاِذَا كَالُوْهُمْ اَوْ وَّزَنُوْهُمْ يُخْسِرُوْنَ ۝٣

افسوس هلاکت خرابي يا کنده د دوزخ ده کم کوونکيو لره (په پيمانه او تول کې). هغه (کسان) هر کله چې ځان ته اخلي پيمانه نو پوره اخلي. او کله چې پيمانه ورکوي يا يې تلي هغوی ته؛ نو کمی کوي (پوره يې نه ورکوي).

تفسير: له خلقو څخه خو خپل حق او برخه پوره اخيستل بد او مذموم نه دي، دلته د دې خبرې بد ويل مقصود نه دي، بلکه د لږ ورکولو د مذمّت د تاکيد لپاره دی، يعنې اګر که لږ ورکول په خپله في نفسه هم مذموم دی، خو که له دې سره د اخيستلو په وخت کې د نورو بالکل رعايت نه کيږي؛ نو دا لا مذموم دی، پرته له رعايت کوونکي څخه چې که په هغه کې يو عيب شته خو يو هنر هم لري، نو دا دې په هغه پسې، نو ځکه د هغه ړومبني سړي عيب لا شديد شو، څرنګه چې اصلي مراد د لږ ورکولو مذمّت دی، نو ځکه يې دلته پيمانه او ژی او وزن تلل دواړه ياد کړل، تر څو خبره سره سمکاره او جوته شي چې د پيمانه کولو او تللو د دواړو په وخت کې لږ ورکوي، او څنګه چې پوره اخيستل پخپله في نفسه کومه بده خبره نه ده؛ نو يو ځلي يې د تأکيد لپاره ياد کړ، د پيمانې او اوژي (تول) تخصيص ښايي د دې لپاره وي چې په عربو په تېره بيا په مدينې منورې کې زياتره د کيل او پيمانې سره پيرودلو (اخيستلو) او پلورلو (بيع و شراء) رواج درلود (لرلو)، پرته له دې د دې تخصيص نور وجوه هم شته.

اَلَا يَظُنُّ اُولٰٓئِكَ اَنَّهُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ ۝٤ لِيَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝٥

آيا يقين نه کوي (ډېر اخيستونکي لږ ورکوونکي دغه) چې بېشکه دوی راپورته به کړل شي لپاره (د حساب) د لويې ورځې (د قيامت).

تفسير: يعنې که هغوی داسې خيال لري چې وروسته له مړ کېدلو بيا ژوندون شته، او د الله تعالی په مخ کې د ګردو حقوقو او فرائضو او چارو حساب او شمېر ورکول حق دي؛ نو هيڅکله به يې داسې حرکت او خوځېدل نه کول.

يَّوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٦

هغه ورځ چې وبه درېږي خلق لپاره (د احکام) د رب د ټولو مخلوقاتو.

كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ الْفُجَّارِ لَفِيْ سِجِّيْنٍ ۝٧

داسې پکار نه ده (او نه دې کوي ډېراخيستل او لږ ورکول په تجارت او غفلت له قيامت نه)، بېشکه ليکلی شوي اعمال د فاجرانو (کافرانو) خامخا په سجّين کې دي.

تفسير: يعني له سره هسې ګمان ونه کړ شي چې داسې ورځ به نه راځي، ځکه چې هغه ورځ هرومرو راتلونکې ده، نو د هغې ورځې د راتګ لپاره د ګردو نېکانو او بدانو عملنامې لیکلې د کرام الکاتبین په دفترو کې مرتّب ایښودلی شوي دي.

(اوس الله أجلّ شأنُهُ وأعظمَ برهانُهُ ویروي فاجران بالعموم او داسې فرمایي):

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا سِجِّينٞ ٨ كِتَٰبٞ مَّرۡقُومٞ ٩

او څه شي پوه کړی یې ته (ای محمده !) چې څه دی سجّین. یو دفتر دی لیکلی شوی (د فجّارو د اعمالو).

تفسير: یعني سجّین یو داسې دفتر دی چې په هغو کې د ګردو دوزخیانو نومونه لیکلي شوي دي، او د بندګانو د چارو لیکونکې پرښتې چې د هغوی دنامه یادونه په پخواني سورت کې وشوه د دې بدکارانو د مړه کېدلو او د عمل له پرېکېدلو څخه وروسته د هر یوه سړي چارې په ښلو ښلو دفترو کې لیکي، او په دې دفتر کې یې داخلوي، د هر یوه دوزخي د نامه لپاره یوه ښله علامه او نښه ایښودله شي، چې هغه دوزخي دی، او د هغه د لیدلو څخه هر څوک پوهیږي چې په کې خیر نشته، له ځینو روایتونو څخه دا ښکاري چې د کافرانو ارواح په همدغه ځای کې وي، ځینې پخواني مفسّرین وایي چې: دا ځای تر اوومې ځمکې لاندې دی، الله تعالی أعظم برهانُه په داسې خبرو ښه پوهیږي.

وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ١٠ ٱلَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ١١ وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ ١٢

افسوس هلاکت خرابي یا کنده د دوزخ ده په دغې ورځې کې دروغ ګڼونکو لره. هغه کسان چې دروغ وایي په ورځې د انصاف جزاء باندې. او دروغ نه ګڼي دغه (ورځ د جزاء) مګر هر یو له اندازې تېرېدونکی ګنهګار.

تفسير: هغه څوک چې د جزاء له ورځې څخه منکریږي؛ په حقیقت کې د الله تعالی د ربوبیت او د هغه عدل، قدرت، حکمت او نورو صفاتو څخه منکریږي، او هغه څوک چې د الله تعالی له دې صفاتو څخه منکریږي؛ نو هرومرو چې په ګناهونو کې زړور شي لږه ده، د ﴿مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ﴾ یعني له اندازې تېرېدونکی ګنهګار، بل بد عادت دغه دی چې:

إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٣

کله چې ولوستلی شي په ده باندې آیتونه (د قرآن) ځمونږ؛ نو وایي (جهلاً او عناداً چې دا) چټې (بېکاره) قصې دي د پخوانیو.

تفسير: یعني کله چې قرآنکریم او د پند خبرې اوري؛ وایي: داسې خبرې به پخوانیو خلقو هم کولې، اوس هم هغه پخوانی قصې او له کاره وتلې افسانې ویلی کیږي، نو مونږ له داسې قصو او افسانو څخه کله ویریدونکي یو؟ (العیاذ بالله).

كَلَّاۖ بَلۡۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ١٤

نه ده داسې (لکه چې وایي منکران)، بلکه زنګ اچولی دی پر زړونو د دوی هغو ګناهونو چې وو دوی چې کول به یې.

تفسير: يعني ځمونږ په آيتونو کې هيڅ د شک او شُبهې ځای او موقع نشته، خبره خو دا ده چې د ګناهونو د کثرت او مزاولت ځخه د هغوی په زړونو باندې زنګ لوېدلی دی، نو ځکه د صحيحو حقائقو انعکاس په هغو کې نه کيږي، په حديث کې راغلي دي: «کله چې سړی ګناه کوي؛ يو تور ټکی د هغه په زړه کې پيدا کيږي، که توبه يې وکړه؛ نو دا ټکی لرې کيږي، که نه هومره چې ګناه کوي؛ په همغه اندازه دا ټکی پلنيږي او ارتيږي، تر دې چې د ده زړه تک تور شي، او د حق او د باطل هيڅ فرق او تميز نشي کولی».

كَلَّآ إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ ﴿١٥﴾

ږښتيا ده چې بېشکه دوی به له (لقاء د) رب خپله په دغې ورځې (د قيامت کې) خامخا په حجاب کې وي (نه به ويني الله).

تفسير: يعني د دې انکار او تکذيب د انجام او پای ځخه ښايي چې بې فکره نشي، هغه وخت خامخا راتلونکی دی چې په هغه کې مؤمنين د حق سبحانه وتعالی په لقاء او ليدلو سره مشرّفيږي، او دا بدبختان به تر پې محروم او ممنوع او بې برخې پاتې کيږي.

ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُوا الْجَحِيمِ ﴿١٦﴾ ثُمَّ يُقَالُ هَٰذَا الَّذِي كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿١٧﴾ كَلَّآ

پس بېشکه دوی چې دي خامخا ننوتونکي دي دوزخ ته. بيا به وويل شي (دوی ته چې): دا هغه (عذاب) دی چې وئ تاسې چې هغه به مو دروغ ګڼه انکار به مو ترې کوو. له سره نه ده داسې.

تفسير: يعني د دې بدانو او نېکانو پای او انجام هيڅکله يو شانې نشي کېدی، او الله جل جلاله ابرارو سره دغسې معامله فرمايي:

إِنَّ كِتَٰبَ الْأَبْرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ ﴿١٨﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ ﴿١٩﴾ كِتَٰبٌ مَّرْقُومٌ ﴿٢٠﴾

بېشکه هغه کتاب چې پکی ليکلي شوی اعمال د ابرارو نېکانو خامخا په عليين کې دی. او څه شي پوه کړې ته (ای محمده) چې څه دی عليين؟. يو دفتر دی ليکلی شوی (د اعمالو د ابرارو).

تفسير: چېرته چې د جنتيانو نومونه ليکلي شوي دي، او د هغو يا د ښو چارو پاڼې سره رونې او ترتيب شوي دي؛ ډومبی د هغو ارواح هلته بيولی کيږي، بيا يې د خپلې هستوګنې اصلي ځای ته بيايي، د دې ارواحو څه علائق او اړيکې به له قبر سره هم وي، ويل کيږي چې دا ځای پر اووم اسمان دی، او د مقرّبينو ارواح به هلته هستوګنه لري، والله أعلم.

يَشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُونَ ﴿٢١﴾

چې ګوري حاضريږي هغه ته مقرّبان (د الله ملائکې او نور بندګان).

تفسير: مقرّبې پرښتې يا د الله تعالی مقرّب بندګان په خوشالۍ سره د مؤمنانو اعمالنامې ګوري، او هلته به حاضر وي.

إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى الْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٢٣﴾

بېشکه ابرار نېکان خامخا په نعيم لوی نعمت د (جنّت) کې دي. پر (مکلّلو) تختونو باندې ناست ګوري (د الله لقاء او د جنت نعماء، او ترې متلذذ کيږي، يا به ګوري دوزخيانو ته).

تفسير: يعنې په خورا ښو پالنګونو به ناست وي، او په زړه پورې د جنّت ښې نندارې به کوي، او د الله تعالى په لیدلو سره به خپلې سترګې رڼوي، او زړونه به پرې خوشالوي.

تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيمِ ﴿٢٤﴾

پېژنې به ته (ای کتونکیه !) په مخونو د دوی کې تازه ګي د نعیم (تنعّم د جنّت).

تفسير: يعنې د جنّت له عیش او آرام څخه به د هغوی څېرې داسې ښې او تروتازه او بارونقې ښکاري، چې هر لیدونکی به له لرې پوهیږي چې دا کسان په خورا عیش، هوسایی، راحت او تنعّم کې دي.

يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ﴿٢٥﴾ خِتَامُهُ مِسْكٌ

ورځښولی شي (هغوی ته) له خالصو شرابو مهر کړیو شویو څخه. چې مهر به یې مشک وي.

تفسير: شاه صاحب لیکي چې: «په جنت کې به د خورا خالصو شرابو ویالې د هر چا د کور د مخه وي، خو دا خورا ښه او نادر شراب دي، چې سر به یې تل مهر وي په جنّتي مشکو سره»، لکه چې په دنیا کې مهر په لاکو یا مومو یا خاورو یا ختو یا نورو شیانو باندې لګول کیږي، کله چې دهغه ځای خاورې مشک دي؛ نو په هغو باندې دا مهر لګاوه کیږي، دا ښېښه چې په لاس کې واخیسته شي؛ دماغ معطریږي، او تر آخره پورې د خوشبویی خورا ښه رائحه او وږم ترې پورته کیږي.

وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ ﴿٢٦﴾

او په دغه (شرابو او نورو جنتي نعماوو) باندې پس بایده دي چې رغبت وکړي رغبت کوونکي (په کولو د فضائلو او پرېښودلو د رذائلو، چې عجلت وکړي په حسناتو او ځان وساتي له سیئاتو).

وَمِزَاجُهُ مِن تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾

او ګډون د هغه (شراب دی له اوبو د) تسنیم څخه. دا (تسنیم) یوه چینه ده (په جنّت کې) چې څښي به له هغې څخه د (الله) مقرّبان.

تفسير: يعنې مقرّب خلق یواځې د دې چینې خالص شراب څښي، او نېکانو ته به د دې شرابو ګډ ورکول کیږي، چې لکه ګلاب او نور په هغه شراب کې ګډیږي.

إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُوا مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ ﴿٢٩﴾

بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي؛ وو دوی په هغو کسانو باندې چې ایمان یې راوړی وو خندل به یې (مسخرې به یې پرې کولې).

تفسير: او پخپلو منځونو کې به یې په تمسخر او استهزاء سره داسې ویل چې: د دې بې هوشانو په مغزو کې څه یو چتې خیال لوېدلی دی، چې د نن موجود او محسوس خوندونه او لذّتونه د جنّت په صباح موهومو چرتونو او خیالي لذّتونو باندې له لاسه وباسي (والعیاذ بالله).

وَإِذَا مَرُّوا بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾

او کله چې تيريږي منکران پر مؤمنانو باندې؛ هغوی به پخپلو منځونو کې سره سترګکونه وهي (لپاره د استهزاء).

تفسير: او يو تر بله په سترګو اشارتونه کوي، او د حال او قال په ژبه پخپلو منځونو کې سره داسې وايي چې: وګورئ همدوی بې عقلان او احمقان دي، چې د جنت په پور باندې د دنيا له نغدو څخه ځان بې برخې کوي، (استغفر الله).

وَإِذَا انْقَلَبُوا إِلَىٰ أَهْلِهِمُ انْقَلَبُوا فَكِهِينَ ﴿٣١﴾

او کله چې وګرځي خپلو کورونو ته؛ (نو) ګرځي دوی خوشاله (خبرې جوړوونکي په سبب د تمسخر او استهزاء پر مؤمنانو باندې).

تفسير: يعنې په خوش طبعی او ټوکو په مسلمانانو باندې ملنډې وهي، او په خپل عيش او عشرت باندې مفتون او مغرور شوي وايي چې: ځمونږ عقيده او فکر ښه دی، که نه مونږ ته دومره نعمتونه او هوسايي ولې او له کومه رسېده !؟.

وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوا إِنَّ هَٰؤُلَاءِ لَضَالُّونَ ﴿٣٢﴾

او کله چې وبه ليدل (کفّارو) دغه (مؤمنان)؛ نو ويل به يې پخپل منځ کې چې: بېشکه دغه (مؤمنان) خامخا بې لارې دي.

تفسير: کافرو به مسلمانانو ته ګمراه ويل، ځکه چې مسلمانان د دوی په عقيده نه وو.

وَمَا أُرْسِلُوا عَلَيْهِمْ حَافِظِينَ ﴿٣٣﴾

حال دا چې نه دي لېږلي شوي (کافران) پر دغو (مؤمنانو) باندې ساتونکي ځارونکي.

تفسير: چې شاهدي ووايي په هدايت او ضلالت د دوی، دغه د الله جل شأنُه وأعظم برهانُهُ فرمان او بيان دی، چې دا کافران پر مسلمانانو باندې پيره داران نه دي مقرّر شوي، دا احمقان له خپلو بدو چارو څخه سترګې پټوي، او د هغوی د هر راز حرکاتو کتنه کوي، د خپل ځان د اصلاح په فکر کې نه لويږي، او هغو کسانو ته چې په سمه لاره ځي ګمراه او احمق وايي.

فَالْيَوْمَ الَّذِينَ آمَنُوا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾

نو نن (ورځ د قيامت کې به) هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی په کُفّارو باندې خاندي.

تفسير: يعنې د قيامت په ورځ به مسلمانان په دې کافرانو پورې خاندي، چې دا خلق څومره ناپوهـه وو، چې فاني او خسيس ځيز ته يې په ښو نعمتونو او پاتې کېدونکيو نفيسو شيانو باندې ترجيح ورکوله، نو اوس څنګه په دوزخ کې پراته دي؟ او د دائمي عذاب خوند ځکي؟.

عَلَى الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ ﴿٣٥﴾

پر مُکلّلو تختونو به ناست، ګوري به (الله تعالى ته او د جنت نعماوو ته او ترې متلذذ کيږي، يا ګوري کفارو ته چې څرنګه په عذابيږي).

تفسير: يعنې د خپلې خوشالی او د کافرانو د بد ژوند ننداره کوي.

هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

بېشكه چې جزاء ورکړه شوه کفّارو ته همغسې چې کول يې (په دنيا کې له معاصيو).

تفسير: يعنې هغه کسان چې په دنيا کې يې پر مسلمانانو باندې خندل؛ نن د هغوی خپل حال د خندېدو لايق او وړ دی، او مسلمانان د هغو په تېرو حماقتونو باندې خاندي.

تمّت سورة المطفّفين بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.



سُورَةُ الانشِقَاقِ

«د (الانشقاق) سورت مکّي دی، (۲۵) آیته یو رکوع لري، په تلاوت کې (۸۴) په نزول کې (۸۳) سورت دی، وروسته د (الانفطار) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

إِذَا السَّمَاءُ انشَقَّتْ ﴿۱﴾ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿۲﴾

کله چې اسمان څیري شي وچوي. او واوري ومني امر حکم د رب خپل، او (دا اسمان) لایق وړ دی (د هغه الله حکم منلو ته).

تفسیر: یعنې کله چې د الله تعالی له خوا د څیریدلو «تکویني» حکم وشي؛ اسمان به هغه تعمیلوي او مني یې، او اسمان د مقدور او مقهور کېدلو له پلوه د دې خبرې وړ دی چې سره له دومره عظمت او رفعت او لویوالي او هسکوالي د خپل خالق او مالک په مخ کې غاړه کېږدي، او د هغه په دې منلو کې هیڅ ونه وایي.

وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ ﴿۳﴾

او کله چې ځمکه وغوړوله شي.

تفسیر: د محشر لپاره به ځمکه د ربړ په شان جوړېږي، او د هغې د مخ ګرد عمارات او غرونه او نور شیان لري کېږي، تر څو په یوې مستوی سطحي باندې ګرد پخواني او وروستني خلق سره یو ځای او په یوه وخت کې بې له پردې او حجاب او حائل څخه وکتی شي.

وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ ﴿۴﴾

او د باندې وغورځوي هغه چې دننه په کې وي له مړیو او خزائنو څخه، او ښه خالي شي له ټولو اشیاوو نه.

تفسیر: په هغې ورځې کې ځمکه خپلې خزانې او مړي او نور اجزاء له دننه څخه د باندې غورځوي، او منځ یې له هر هغه شي څخه بالکل تشیږي، چې د هغو تعلّق د بندګانو له حساب او کتاب سره وي.

وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿۵﴾

او واوري ومني امر حکم د رب خپل، او (دا ځمکه) لایقه وړ ده (د هغه الله حکم منلو ته).

تفسیر: کله چې ځمکه او اسمان د هغه الله تعالی د ذات او د تکویني حکم تابع او منقاد دي؛ نو سړي ته کله ښایي چې د هغه لوی پروردګار له تشریعي حکم څخه سر وغړوي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدۡحٗا فَمُلَٰقِيهِ ۝٦

ای انسانه ! بېشکه ته عمل کوونکی يې په پوره سعي سره تر وخت د رسېدلو رب خپل ته په عمل سعي کولو سره، نو ته يوځای کېدونکی يې له دغه (خپل عمل او سعي او جزا يې مومې خير وي که شر).

تفسير: يعنې د پروردګار په مخ کې له رسېدلو څخه پخوا هر سړی له خپل استعداد سره سم او موافق مختلف او راز راز ربړونه ګالي، څوک يې په طاعت کې زيار ګالي، څوک يې په سر غړولو کې ځان ستړی کوي، که د خير په لاره کې وي يا د شر په لاره کې، هر رنګه ربړونه وباسي، آخر د خپل پروردګار حضور ته ورځي، او د خپلو اعمالو او چارو نتائج به ووينې.

فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ۝٧ فَسَوۡفَ يُحَاسَبُ حِسَابٗا يَسِيرٗا ۝٨

پس هر هغه څوک چې ورکړه شي کتاب عملنامه د ده په ښي لاس د ده کې؛ نو ژر ده چې حساب به وکړ شي له ده سره حساب اسان.

تفسير: اسان حساب دا دی چې په هره خبره باندې به تنقيدونه نه کيږي، او يوائې د هغه پاڼې وړاندې کيږي، او بې له بحث او مناقشې څخه به خوشې کيږي.

وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ مَسۡرُورٗا ۝٩

او وبه ګرځي اهل خپل ته (په جنّت کې) خوشاله کړی شوی.

تفسير: نه د سزا خوف وي، نه د غُصې وېره، په ډېر امن او اطمينان سره د خپلو احبابو او اقاربو او مسلمانانو وروڼو ته ورسيږي، او له دوی سره په خوښی سره مشغوليږي، او له هغوی سره ګرځي.

وَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهۡرِهِۦ ۝١٠

او هر هغه څوک چې ورکړ شي کتاب عملنامه د ده وروسته تر شا د ده (په کين لاس يې).

تفسير: يعنې ورکړه شي عملنامه په کين لاس کې د شا له لوري، او پرښتې نه غواړي چې د ده هغه مخ ووينې، نو په دې وسيله خپل زيات نفرت او کراهت له هغه څخه ښکاره کوي.

فَسَوۡفَ يَدۡعُواْ ثُبُورٗا ۝١١

پس ژر به ناړې کړي دی ای هلاکته (ځما را حاضر شه ! دا دې وخت دی).

تفسير: يعنې د عذاب له وېرې څخه به مړک غواړي، او د خپل هلاکت ارزو او تمنّا به کوي.

وَيَصۡلَىٰ سَعِيرًا ۝١٢ إِنَّهُۥ كَانَ فِيٓ أَهۡلِهِۦ مَسۡرُورًا ۝١٣

او ننه به وځي دی بل اور (د دوزخ) ته. چې بېشکه وو دی په (دنيايي) اهل خپل کې خوشاله (په کفر او معاصی، غافل له آخرته).

تفسير: يعنې په دنيا کې له آخرته بې فکره وو، د هغه عوض او رنج دا دی چې نن په سخت غم ککړ دی.

إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ﴿١٤﴾

بېشکه ده به يقين کاوه په دنيا کې داسې چې دی به له سره بېرته نه ځکرځي (الله ته، او منکر وو له بعثه).

تفسير: يعنې ده به په دنيا کې ګمان کاوه چې له سره به الله تعالى ته رجوع ونه کړم، او قيامت نشته !، نه ده داسې بلکه:

بَلَىٰٓ ۚ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ بَصِيرًا ﴿١٥﴾

هو ! دی رجوع کوي (هرومرو الله ته)، بېشکه رب د ده دی په ده ښه پوه ليدونکی بينا.

تفسير: يعنې له پيدا کولو ځنې تر مرګ پورې الله تعالى د ده په احوالو ښه خبر وو، نو آيا څه ګمان کاوه شي چې هغه به دې همداسې مهمل او معطّل پريږدي؟ ضرور دي چې د هغه د اعمالو نتيجې او ثمرې به ورښکاره کړي.

فَلَآ أُقْسِمُ بِٱلشَّفَقِ ﴿١٦﴾ وَٱلَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ﴿١٧﴾

پس قسم خورم په شفق سوروالي يا سپينوالي د عشاء پس له سوروالي د ماښام. او په شپه او په هغو (څيزونو) چې جمع کړي وي (شپې هغه په تيارو خپلو کې).

تفسير: يعنې سړي او نور ساکښان چې د ورځې له مخې د معاش په تلاش کې د باندې ځکرځي، او هر چېرې پخپلو چارو کې بوخت دي، د شپې له لورې ټول سره يو ځای کيږي، او هر يو په خپلو ځايونو کې سره ټوليږي.

وَٱلْقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ ﴿١٨﴾

او (قسم خورم) په سپوږمۍ کله چې پوره کامله شي.

تفسير: يعنې د څوارلسمې شپې سپوږمۍ چې د خپل کمال حد ته رسېدلې وي، (او ځواب د پاس قسمونو دا دی چې:)

لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ ﴿١٩﴾

خامخا سواره به شئ وبه رسېږئ تاسې ای خلقو يو حال ته وروسته له بل حال نه.

تفسير: يعنې د دنيا په ژوندون کې له مختلفو دورو څخه په تدريج سره تېر شوئ، په پای کې د مرګ پورې دی، بيا د برزخ عالم دی، وروسته قيامت، الله تعالى پوهيږي چې په قيامت کې ده څه څه احوال وليدل؟ او د څه څه مراتبو پربکول درجه په درجه په مخ کې دي؟ لکه چې د شپې په اوله برخه کې تر څو چې شفق وي، يو شانته سره او سپينه رڼا وي، نو دا رڼا في الحقيقت او په رښتيا سره وي چې د لمر د پاتې شوي اثراتو او اغېز نسبې دي، چې پس له ورکېدلو د هغې د ظلمت بل دوره شروع کيږي، چې هر شی په کې پټيږي، په شپه کې سپوږمۍ هم راخيژي، چې درجه په درجه د هغې رڼا زياتيږي، کميږي، او په څوارلسمې شپې کې د پوره سپوږمۍ رڼا هم توره تياه فضاء رڼوي، ګواکې د انسان احوال طبقات هم د شپې مختلفو کيفياتو ته ورته او ورسره مشابه دي، والله أعلم.

فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿۲۰﴾

پس څه دي دغو (انسانانو ته) چې ايمان نه راوړي.

تفسير: چې وروسته له مړ ګه دوی د الله تعالی په طرف رجوع کوي، او هم يو سخت مزل په مخ کې دی چې هغه ته کافي توښه په کار ده.

وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ ﴿۲۱﴾

او کله چې ولوست شي په دوی باندې قرآن؛ نو سجده نه کوي (لپاره د لوستلو يې).

تفسير: که د هغوی عقل پخپله دا حالات نشو موندلی؛ نو لازم وو چې د قرآنکريم له بيان څخه يې ګټه اخيستلی، خو پرته له دې د دوی حال دا دی چې د قرآن معجز بيان اوري، خو هيڅ د هغه په مخ کې د عاجزۍ او تذلّل اظهار نه کوي، تر دې چې مسلمانان د پاک الله تعالی دا آيات اوري سجده کوي، هغوی د همدې تشې سجدې توفيق هم نه لري.

بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُكَذِّبُونَ ﴿۲۲﴾ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴿۲۳﴾

بلکه هغه کسان چې کافران شوي دي په الله دروغ ګڼي (قرآن). او الله ته ښه معلوم دي هغه څه چې دوی يې پټوي په زړونو کې يې ساتي (له کفر او نفاق).

تفسير: يعنې يواځې دا خبره نه ده چې هغوی د الله تعالی آيتونه اوري او سجده نه کوي، او انقياد او تذلّل ته غاړه نه ږدي، بلکه زيات له دې نه د هغو آيتونو تکذيب پخپلو ژبو سره هم کوي، او د دوی له زړونو څخه چې په هغه کې د تکذيب، انکار، بغض، عناد او د حق د دښمنۍ ډېرې پرتې دي؛ الله تعالی ښه خبر دی.

فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿۲۴﴾

پس بشارت زېرى ورکړه دوی ته په عذاب دردناک سره (په آخرت کې).

تفسير: يعنې زېرى وکړئ په هغو باندې ! څه شی چې هغوی ګټي؛ د هغې نتيجه او مېوه به هرومرو هغوی ته رسيږي، او د هغوی دا کوششونه او زيارونه به هيڅ نه ابته (خراب) کيږي، او خامخا هغوی ته جزاء ورسيږي.

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿۲۵﴾

مګر خو هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، او کړي يې دي ښه (عملونه)؛ هغوی ته دی اجر ثواب بې نهايته چې خلاصی او کمی نه لري.

تفسير: چې هيڅ کله پای (آخر) ته نه رسيږي، او تل دائم او قائم او لا ينقطع دی.

تمّت سورة الانشقاق بفضل الله تعالی ومنّه وکرمه.

سُورَةُ البُرُوجِ

«د (البروج) سورت مکّي دی، (۲۲) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۸۵) په نزول کې (۲۷) سورت دی، وروسته د (الشّمس) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْبُرُوجِ ﴿١﴾

قسم په اسمان چې خاوند د برجونو دی.

تفسیر: له برجونو څخه مراد هغه دولس برجونه دي چې په یوه کال کې لمر په هغو کې ګرځي، یا د اسماني قلعې برجونه او برخې دي چې پرښتې پیرې په کې کوي، یا هغه لوی ستوري دي چې په لیدلو سره هم په اسمان کې ښکاري، والله أعلم.

وَالْيَوْمِ الْمَوْعُودِ ﴿٢﴾ وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ ﴿٣﴾

او (قسم دی) په هغې ورځې وعدې کړی شوې (چې د قیامت ورځ ده). او (قسم دی) په هغې ورځې چې حاضریږي (چې ورځ د جمعې ده)، او په هغې ورځې چې هغې ته ورحاضریږي (خلق چې ورځ د عرفې ده).

تفسیر: خلق په ګردو ښارونو کې حاضریږي د جمعې په ورځ، او د ګردې دنیا خلق سره یو ځای ټولیږي د عرفې په ورځ حج ته، نو ځکه په روایتونو کې راغلي چې (شاهد) د جمعې ورځ ده، او (مشهود) د عرفې، برسېره پر دې د «شاهد» او «مشهود» په تفسیر کې ډېرې خبرې دي، خو أوفق الرّوایات همدا خبره ده، والله أعلم.

(ځواب د قسم محذوف دی، لکه چې پرې دغه راتلونکی آیت دلالت کوي چې):

قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ ﴿٤﴾ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُودِ ﴿٥﴾

وژلی شوي دي خاوندان د کندې د خندقونو د اور (په ځمکه کې) چې خاوند د بلېدلو وه (په ګوګړو او په ډېرو لرګیو او په سړیو سره).

تفسیر: یعنې مغضوب او ملعون شول هغه خلق چې لوی لوی خندقونه یې کنستلي او له اوره یې ډک کړي او ډېر لرګي یې په کې واچول او بنه یې سره کړل، د ﴿أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ﴾ څخه مراد څوک دي؟ مفسّرین څو واقعات وایي، خو هغه قصه چې په صحیح مسلم، جامع ترمذي، مسند احمد او نورو کې یاده شوې ده؛ لنډه یې دا ده چې: په پخوانیو پېړیو کې کوم کافر باچا وو، چې له هغه سره یو کوډګر وو، کله چې د کوډګر مرګ نژدې شو، له باچا څخه یې غوښتنه وکړه، چې یو هوښیار او پوه هلک دې ماته راکړ شي چې زه دا خپل علم ورزده کړم، او وروسته له ما څخه دا علم له لاسه ونه وځي، یو هلک د دې کار لپاره وټاکل شو، چې هره ورځ به یې د هغه کوډګر څخه سحر او کوډې زده کولې، د ده په لاره کې یو عیسایي راهب وو چې د هغې پېړۍ په اعتبار د هغه دین حق وو، دغه هلک له هغه سره هم خپل تګ راتګ شروع کړ، او په پټه یې د هغه راهب دین ومانه، او د هغه د تعلیم په وجه د ولایت او کرامت خاوند شو، یوه ورځ دې

هلک ولیدل چې یو څیروونکی ځناور لکه ځمری یا پړانګ او نور لاره نیولې، او خلقو ته یې زیاته وهره او پرېشاني وروړاندې کړې ده، هغه یوه تیږه په لاس کې واخیسته، او دعاء یې وکړه: «ای الها ! که د راهب دین حق وي؛ نو ځما په دې ډېره دا ځناور مړ کړې»، دا یې وویل او تیږه یې وروغورځوله، چې د هغې له اغېزې او اثر هغه ځناور له کاره ووت، په خلقو کې یو لوی شورماشور جوړ شو چې دغه هلک ډېر علم لري، یوه ړانده چې دا انګازه او اوازه واورېده؛ ورځنې ویې غوښتل چې: «ځما سترګې را رنې کړه !»، هلک وویل: «کوونکی زه نه یم، هغه ځمونږ الله تعالی دی، که ته هغه منې او کفر پرېږدې؛ نو دعا درته کوم، هیله شته چې ستا سترګې رنې شي»، لکه چې همداسې هم وشوه، ورو ورو دا خبرې ګردې باچا ته ورسېدلې، باچا ورته په قهر شو، هغه هلک، راهب او ړوند یې وغوښتل، او وروسته له څه خبرو او اترو څخه یې راهب او ړوند ووژل، د هلک په نسبت یې امر ورکړ چې «هغه دې له یوه لوړ غره څخه په رغړولو وواژه شي»، خو د الله تعالی په قدرت هغه کسانو چې دا هلک یې د ځان سره پر غره باندې خېژولی وو؛ هغوی پخپله له غره څخه ورغړ بدل، او دا هلک روغ رمټ ببرته راغی، بیا باچا امر ورکړ چې: «هغه دې په سیند کې ډوب کړ شي !»، هلته هم دا پېښه وروړاندې شوه، او هغه ګرد سړي چې له ده سره تللي وو ټول په سیند کې ډوب شول، او دی جوړ او روغ ببرته راوګرځېد، په پای (آخر) کې هلک باچا ته وویل: زه د ځان وژلو چل درښیم، تاسې ګرد سړي په یوه میدان کې سره ټول کړئ، د هغوی پر مخ کې ما یو غرغره باندې وځړوئ، او د دې لفظ په ویلو سره پر ما باندې غشی ولګئ: «بسم الله رب الغلام»، «د هغه الله په نامه چې د دې هلک رب او پالونکی دی»، کله چې باچا داسې وکړه او هغه هلک د خپل رب تر نامه ځار او مړ شو، او خلقو دا عجیبه واقعه ولیدله؛ ټولو وویـل: «آمنّا بـربّ الغُلام، ایمان مو راوړ د دې هلک په رب او پالونکي باندې»، نو وزیرانو باچا ته وویل: «وګورئ چې د هغې خبرې په سبب چې دا ګردې چارې وشوې، اخر ته هغه پېښه شوه، رومبی به یو دوو سړیو ایمان راوړ، اوس خورا ډېر خلق مؤمنان شول»، باچا زیات په قهر شو او د ډېرو لویو او ژورو خندقونو د کنستلو امر یې ورکړ، او هغه یې ښه له اوره څخه ډک کړل، او اعلان یې وکړ: «هر څوک چې ایمان لري، او د خپل ایمان څخه لاس نه وباسي؛ په همدې کندو کې دې وغورځاوه شي !»، تر دې چې ډېر سړي په اور کې وغورځول شول، خو هیڅ یوه هم د خپل ایمان څخه لاس وانه خیست، یوه ایمان داره ښځه راوستله شوه چې په تي پورې یې یو ماشوم وو، او ګمان کېده چې ښایي دا د خپل کوچني له وېرې ځان په اور کې ونه غورځوي، خو د الله تعالی په امر کوچني (ماشوم) داسې ورغـږ کړ: «أُمّاه اصبري فإنک علی الحق، مورکی ! صبر وکړه، چې ته په حق باندې یې !».

إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ ﴿٧﴾ وَهُمْ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ بِالْمُؤْمِنِينَ شُهُودٌ ﴿٨﴾

کله چې دوی په (غاړو) د اور ناست وو. او دوی په هغه چې کول به یې په مؤمنانو باندې حاضر وو (او پخپلو سترګو یې کتلې).

تفسیر: یعنې باچا له خپلو وزیرانو او مشرانو سره یو ځای د خندقونو په شاوخوا کې ناست وو، او په ډېره بېرحمۍ او غټ زړه سره یې د مؤمنانو د سوځولو نندارې کولې، او د دې بدبختانو هیڅ زړه په دوی باندې نه خوږېده.

وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ﴿٨﴾ الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿٩﴾

او عیب یې نه لیده له هغو (مسلمانانو) څخه مګر دا چې ایمان لرونکي وو په الله ډېر غالب قوي، ډېر ستایلي شوي باندې. هغه (الله) چې خاص ده لره ده باچایي کامل سلطنت د اسمانونو او د ځمکې (سره له اسمانونو او ځمکـې ملګا خلقًا وعبیدًا)، او الله په هر شي باندې شاهد دی.

تفسیر: یعنې د دې مؤمنانو قصور پرته له دې بل کوم شی نه وو چې هغوی به د کفر له ظلمت او تیارو څخه وتل، او پر یوه لوی او د هر راز ستاینې وړ الله تعالی باندې به یې ایمان راوړ، چې سلطنت او باچایي یې پر اسمان او ځمکه او پر هر شي باندې ده.

إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ ﴿١٠﴾

بېشکه هغه کسان چې په فتنه کې يې غورځولي وي، ضرر يې رسولی وي ايمان لرونکيو سړيو ته او ايمان لرونکيو ښځو ته، بيا يې توبه نه وي ايستلې (او نه وي ګرځېدلي له کفره)؛ نو دوی ته دی (په آخرت کې) عذاب د دوزخ، او دی دوی ته عذاب د اور سوځوونکي.

تفسير: يعنې په «أصحاب الأخدود» پورې منحصر نه دی، هغه سړي چې داسې زيار (کوشش) کوي چې مؤمنان د الله تعالى له لارې څخه ګرځوي لکه چې د مکې کفّار يې کوي، او بيا له دې خپلو ناوړو حرکتونو څخه نه تائب کيږي؛ هغوی ته هم د دوزخ داسې عذاب تيار دی چې په هغه کې به ډېر زيات تکليفونه وي، او زيات تکليف به په داسې سوځولو کې وي چې د دوزخي زړه او وجود په کې سوځي.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيرُ ﴿١١﴾

بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه)، شته دوی ته جنّتونه چې بهيږي له لاندې د (ونو او ماڼيو د) هغو (څلور قسمه) ويالې، دا نجات دی مراد موندل لوی.

تفسير: يعنې د دې ځای له تکليفونو څخه نه ويريږي، وروستنی او لوی بری هغوی لره دی، چې د هغو په مخ کې د دې ځای عيش او تکليف دواړه هيڅ دي.

إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ﴿١٢﴾

بېشکه نيول د رب ستا خامخا ډېر سخت دي.

تفسير: نو ځکه ظالمان او مجرمان نيسي، او خورا سختې سزاوې هغوی ته ورکوي.

إِنَّهُ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيدُ ﴿١٣﴾

بېشکه هم دغه (الله) دی ظاهروونکی (دبطش خپل په کفارو) اول ځلي او بيا ظاهروونکی دی (د بطش خپل په کفارو)دوهم ځلي په (آخرت کې يا) بېشکه همدغه (الله) دی پيدا کوونکی اول ځلي (له نطفې نه)، او بيا يې راګرځوونکی دی (دويم ځلي) پس له مرګه.

تفسير: يعنې اول ځلي د دنيا عذاب او دويم ځلي د آخرت ربړ (كذا في الموضح)، يا يې دا مطلب دی چې هغه اول ځلي سړی پيدا کوي، او دويم ځلي وروسته له مړينې به يې هم هم هغه بيا پيدا کوي، نو مجرمان دې نه تېروځي، چې هر کله چې ځمونږ په مړينې سره نوم او نښې ورکې شي، بيا نو مونږ څرنګه ژوندي کيږو؟.

وَهُوَ الْغَفُورُ الْوَدُودُ ﴿١٤﴾

او همدی دی ښه بښونکی (د ګنهګارو مؤمنانو) محبّت کوونکی (له مؤمنانو سره).

تفسير: يعنې سره د ده د قهّارۍ او کلک نيولو له صفته د هغه د بخښش او د مهربانۍ هم هيڅ اندازه نشته دی، د حکم منونکيو بندګانو خطاوې او ګناهونه بښي، او د دوی عيبونه پټوي، او په راز راز لطف او کرم او عنايت او شفقت سره يې پالي.

ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيدُ ﴿١٥﴾ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٦﴾

مالک د عرش دی، لوی دی (په ذات او صفات خپلو کې). ډېر ښه کوونکی دی د هر هغه شي چې اراده يې وفرمايي.

تفسير: يعنې سم له خپل علم او حکمت سره د هر شي کول چې وغواړي؛ ژر تر ژره هغه کوي، هيڅا لره حق نشته، چې د هغه د چارې مخه ونيسي.

هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْجُنُودِ ﴿١٧﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴿١٨﴾

آيا راغلی دی تاته (ای محمده !) خبر د (هغو) لښکرو چې فرعونيان او ثموديان دي.

تفسير: تر يوه مدّت پورې د انعام ورونه د هغو فرعونيانو او ثموديانو په مخ کې وپرانستل شول، او له هرې خوا هغوی ته نعمتونه ورورسېدل، بيا د هغوی د کُفر او طغيان له سببه ډېر سخت کسات او انتقام له هغوی څخه واخيست شو.

بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي تَكْذِيبٍ ﴿١٩﴾

بلکه هغه کسان چې کافران شوي دي (له قومه د تا) په دروغجن ګڼلو کې دي.

تفسير: يعنې کفّار له دې خبرې څخه څه عبرت او پند نه اخلي، او د الله تعالی له عذابه هيڅ نه ويريږي، برسېره پر دې دا ګردې خبرې او پاک قرآن دروغ ګڼي، او تل په همدغو دروغو پسې ګرځي.

وَاللَّهُ مِن وَرَائِهِم مُّحِيطٌ ﴿٢٠﴾

او الله په هر لوري د دې احاطه کوونکی دی (په علم او قدرت خپل سره، نو تر يې نشي خلاصېدی هيڅ کله).

تفسير: يعنې له دې دروغ ګڼلو څخه هيڅ يوه ګټه هغوی ته نه رسيږي، خو د دې دروغ بللو جزاء هرومرو دوی ته رسيږي، دوی د الله تعالی له واک او قبضې څخه هيڅېرې نشي وتلی، او نه له سزا څخه يې خپل ځانونه ژغورلی شي.

بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَّجِيدٌ ﴿٢١﴾

بلکه دا قرآن دی شانداره لوی.

تفسير: يعنې د پاک قرآن دروغ بلل پوره حماقت دی، قرآن مجيد داسې يو شی نه دی چې د دروغ بللو وړ وي، يا د څو تنو ناپوهانو او احمقانو په دروغ ګڼلو سره د هغه په لويي او سترتوب کې به څه نقصان او لږوالی پېښ شي.

فِي لَوْحٍ مَّحْفُوظٍ ﴿٢٢﴾

ليکلی شوی دی په لوح محفوظ کې.

تفسير: په داسې يو ځای کې چې هلته د هيڅډول تغيير او تبديل او لاس وهلو هيله نشته، او له هغه ځايه په ډېر حفاظت او اهتمام سره صاحب د وحي ته ورسېږي.

تمّت سورة البُروج فلله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الطَّارِقِ

«د (الطارق) سورت مکي دی، (۱۷) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۸۶) په نزول کې (۳۶) سورت دی، وروسته د «البلد» له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَالسَّمَاءِ وَالطَّارِقِ ﴿۱﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الطَّارِقُ ﴿۲﴾ النَّجْمُ الثَّاقِبُ ﴿۳﴾ إِن كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ﴿۴﴾ فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ مِمَّ خُلِقَ ﴿۵﴾

قسم دی په اسمان او په راتلونکي د شپې. او څه پوه کړې ته چې څه دی راتلونکی د شپې. ستوری ځلېدونکی دی. چې نه دی هیڅ نفس مګر په هغه باندې څارونکی ساتونکی شته. نو ودې ګوري انسان چې (اصلاً) له څه شي څخه پیدا کړی شوی دی.

تفسیر: یعنې له انسانانو سره پرښتې اوسیږي، چې هغوی له بلاوو څخه ژغوري، یا یې عمل لیکي.

خُلِقَ مِن مَّاءٍ دَافِقٍ ﴿۶﴾

پیدا کړی شوی دی (انسان) له اوبو ټوپ وهونکیو څخه (په رحم کې).

تفسیر: یعنې له منیو څخه چې ټوپ وهلې وځي، یا له هسې اوبو څخه چې ټولې کړی شوي وي په رحم کې.

يَخْرُجُ مِن بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ ﴿۷﴾

هسې اوبه چې راوځي له منځه د شاوو (د سړیو)، او له هډوکیو د سینو (د ښځو څخه).

تفسیر: وایي چې د نارینه وو مني د دوی له شاګانو څخه، او د ښځو مني د هغو له ټټرو څخه راوځي.

إِنَّهُ عَلَىٰ رَجْعِهِ لَقَادِرٌ ﴿۸﴾

بېشکه دغه (الله) په بیا بېرته ژوندي ګرځولو د هغه (انسان) خامخا توانا قادر دی.

تفسیر: یعنې تر مړینې وروسته مو بیا الله تعالی ژوندي راولي (موضح القرآن)، حاصل یې دا چې له نُطفې څخه د انسان جوړول د هغه د دویم ځلي د بیا ژوندي کولو څخه څه زیات عجیبه ده، کله چې دا عجیب امر د هغه له قدرت کېدی شي؛ نو جائز نه دي تر هغه د یوه لږ عجیب څیز له وقوع څخه انکار وکړ شي، بلکه خامخا بیا یې هم پیدا کولی شي.

يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ ﴿۹﴾

په هغې ورځې کې چې ښکارولی به شي (په کې) پټ څیزونه.

تفسير: يعنې ګردې هغه پټې خبرى چې د دوى په زړونو کې وي؛ ښکاريږي، او د هيڅ يو جرم اخفاء به ممکنه نه وي.

فَمَا لَهُ مِنْ قُوَّةٍ وَّلَا نَاصِرٍ ﴿١٠﴾

نو نه به وي دغه (انسان) ته هيڅ قوّت زور، او نه هيڅ ناصر مدد کوونکى.

تفسير: په دې وخت کې به نه مجرم د خپل زور او قوّت په مرسته خپله مدافعه کولى شي، نه به يې څوک حمايت او ملګرتوب وکړى شي، چې دى له سزا څخه وژغورې (بچ کړي).

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ﴿١١﴾

قسم دى په اسمان خاوند د ببرته ګرځېدلو (چورلېدلو).

تفسير: يا قسم دى په ورېځې باندې چې خاونده د باران ده، يا په اسمان او ورښت راوړونکې باندې.

وَالْاَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ﴿١٢﴾

او (قسم دى) په ځمکه خاونده د چاودلو (د سورې چې ترې راوځي اوبه او ګياه او نور).

تفسير: يعنې د ځمکې له چاودلو څخه ونې واښه شينکي او نور د باندې راوځي، او ځواب د قسم دا دى:

اِنَّهٗ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ﴿١٣﴾ وَّمَا هُوَ بِالْهَزْلِ ﴿١٤﴾

چې بېشکه دا قرآن خامخا وينا ده بېلوونکې (د حق او باطل) او نه دى دغه (قرآن) لوبې عبثې خبرې مزاح ټوکې.

تفسير: يعنې هغه خبرې چې قرآن يې د معاد په نسبت کوي؛ د لوبو او د ټوکو خبرې او د خندلو وړ اترې نه دي، بلکه د حق تعالى او د باطل او دروغو او رښتيا پرېکړه او فيصله ده، او بېشکه دغه يوه رښتيا خبره او يوه پاى ته رسېدلې معامله ده، چې هرومرو راتلونکې ده.

اِنَّهُمْ يَكِيْدُوْنَ كَيْدًا ﴿١٥﴾ وَّاَكِيْدُ كَيْدًا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ الْكٰفِرِيْنَ اَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ﴿١٧﴾

بېشکه دوى کيد چل کوي په چل کولو سره. او چل به ورسره وکړم زه په چل کولو سره. پس مهلت ورکړه کافرانو ته، مهلت ورکړه دوى ته لږ (مدّت).

تفسير: دوى به د دين په خلاف راز راز چلونه او فرېبونه کول، د خلکو په زړونو کې به يې شبهات اچول، خو د الله تعالى چل د دوى ټول چلونه برباد کړل، او الله تعالى ورته استدراج ورکولو تر دې چې عذابونه پرې نازل شول.

تمّت سورة الطارق بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.



سُورَةُ الأَعْلَىٰ

«د (الأعلىٰ) سورت مکي دی، (١٩) آيتونه يوه رکوع لري، په تلاوت کې (٨٧) په نزول کې (٨) سورت دی، وروسته د (التّکوير) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى ﴿١﴾

پاکي بيان کړه د نامه د رب خپل چې (له ټولو څخه) ډېر لوی او ښه غالب اوچت دی.

تفسير: په حديث کې راغلي دي: «کله چې دا آيت نازل شو؛ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «اجعلوها في سجودکم» دا پخپلو سجدو کې ووايئ !، نو ځکه مونږ او ګرد مسلمانان پخپلو سجدو کې «سبحان ربي الأعلى» وايو.

الَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٢﴾

هغه (رب) چې پيدا يې کړل (ټول اشياء) نو اجزاء اعضاء يې برابر او بې نقصانه کړل.

تفسير: يعنې هر هغه څيز چې جوړ کړی يې دی؛ پوره له حکمت سره دی، او ښه يې جوړ کړی دی، د خواصو او صفاتو په اعتبار او د هغو ګټو لامله چې له هغه شي څخه مقصود دی، د هغه پيدايش يې په درجه د کمال سره رسولی دی، او داسې معتدل مزاج يې وربښلی دی، چې په هغه باندې ګرد په زړه پورې منافع او فوائد مرتّب کېدی شي.

وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ﴿٣﴾

او هغه (رب) چې اندازه يې کړل (خير او شر د هغوی)؛ نو لاره يې وروښوده (په طريقه د کسب سره).

تفسير: شاه عبد القادر (رحمة الله عليه) ليکي: «يعنې اول يې تقدير وليکه، بيا يې سم له هغه سره دنيا ته راوست، ګواکې دنيا ته يې د راتلو لاره وروښوده».

وَالَّذِي أَخْرَجَ الْمَرْعَىٰ ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُ غُثَاءً أَحْوَىٰ ﴿٥﴾

او هغه (رب) چې را ايستلې يې ده تازه ګيا له ځمکې څخه، پس ويې ګرځوله هغه (شنه ګياه) وچه توره.

تفسير: يعنې رومبی تک شنه وابنه او ورشو په ځمکه کې پيدا کوي، بيا ورو ورو هغه وچ او توروي، چې له هغو وچو وښو څخه هم حيواناتو ته خوراک ورکاوه کيږي، او هم هغوی ته تر ډېر مدّت پورې ذخيره کاوه شي، تر دې چې وچ کښتونه هم وروسته له ربيلو څخه په کار راځي.

سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسَىٰٓ ۝٦ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۚ

ژر ده چې وبه لولو مونږ (په ژبه د جبريل) په تا باندې (قرآن ای محمده !) بيا به يې ته نه هېروې. مګر هغه چې اراده وفرمايي الله (د هېرولو يې له تا نه په منسوخ کېدلو).

تفسير: يعنې لکه چې مونږ پخپل تربيت سره هر څيز په تدريج د هغه مطلوب کمال ته رسولی دی؛ په تا باندې به هم ورو ورو کامل قرآن لولو، او داسې به يې در په ياد کړو چې د هغه هيڅ يوه برخه در څخه هېره نشي، پرته له هغو آيتونو ځنې چې د هغو بالکل هېرول مقصود وي، چې دا هم يو راز نسخ ده.

إِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلْجَهْرَ وَمَا يَخْفَىٰ ۝٧

بېشکه دغه (الله) ته معلوم دي (هغه څه قول فعل چې دی) ښکاره او هغه څه چې پټ دي (يعنې ټول شيان).

تفسير: يعنې الله تعالى ته ستاسې پټ استعدادونه او ښکاره اعمال او احوال ټول ښه معلوم دي، او سم له هغو سره به له تاسې سره معامله کوي.

وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ ۝٨

او اسانوو د تا لپاره د شريعت اساني (يا يادول د وحي، يا توفيق درکوو تاته لپاره د اسانۍ لارې د شريعت).

تفسير: يعنې د وحي ياد لرل به اسانېږي، او د الله تعالى د معرفت او عبادت او د مملکت او ملّت د سياست ګردې (ټولې) چارې به در اسانې کړی شي، او ستا د بريالیتوب له لارې څخه به ګرد مشکلات لرې کړل شي.

فَذَكِّرْ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكْرَىٰ ۝٩

پس ذکر پند ورکړه ته (ای محمده !) که فائده رسوي ذکر پند (يا پس پند ورکړه ته ای محمده !)، په تحقيق فائده رسوي ذکر پند مؤمنانو ته (يا پس پند ورکړه ته ای محمده !) که فائده رسوي ذکر پند (که فائده نه رسوي).

تفسير: يعنې کله چې الله تعالى پر تاسې باندې داسې انعام وفرمايه؛ نو تاسې هم نورو ته د الله تعالى احکام ورسوئ، او له خپل کمال څخه نور هم تکميل کړئ.

تنبيه: د ﴿إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكْرَىٰ﴾ شرط د دې لپاره راوړی شوی دی، چې وعظ او تذکير هغه وخت کېدی شي چې د اورېدونکي له خوا د هغه د قبلولو ګمان وشي، او د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم د وعظ او تذکير منصب د هر سړي لپاره نه دی، هو تبليغ او انذار «يعنې د الله تعالى د احکامو تبليغ او د هغه له عذاب څخه وېرول» په هر سړي باندې لازم دي، تر څو چې د الله تعالى په بندګانو حجّت قائم وي، او د جهل او ناپوهی عذر پاتې نشي، دېته په عرف کې تذکير او وعظ نه وايي، بلکه تبليغ او دعوت وايي، ښايي چې ځينو مفسرينو هم له همدې جهته د دې آيت معنى لا په ښکاره الفاظو سره داسې ليکلي وي چې څو ځلې نصيحت وکړه که د يو ځلې پند فائده ونه کړي، او کېږي چې د ﴿إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكْرَىٰ﴾ شرط يواځې د تذکير د تأکيد لپاره وي، يعنې که تذکير چاته فائده ورسوي؛ نو تاته ښايي چې تذکير وکړې، دا خو منلې شوې خبره ده، چې په دنيا کې تذکير خامخا يو نه بل ته خو څه نفع او ګټه رسوي، لکه چې الله تعالى فرمايلي

دي: ﴿وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرَىٰ تَنفَعُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ نو معلّق کول د يوه امر په داسې يو څيز باندې چې د هغه وقوع ضروري وي؛ د هغه امر د تأکيد موجب شو.

سَيَذَّكَّرُ مَن يَخْشَىٰ ﴿١٠﴾

ژر ده چې پند به واخلي هغه څوک چې ويريږي له الله (ځکه چې دی فکر کوي په دې کې).

تفسير: په پوهولو باندې خو هغه پوهيږي او له نصيحت څخه هغه ګټه اخيستی شي چې په زړه کې يې لږ او ډېره د الله تعالى وېره وي، او د خپل پای او انجام لږ څه فکر وکړي.

وَيَتَجَنَّبُهَا الْأَشْقَى ﴿١١﴾ الَّذِي يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرَىٰ ﴿١٢﴾

او ډډه کوي له دغه (پنده نصيحته ښه شقي کافر) لوی بدبخت چې نه يې قبلوي. هغه (لوی بدبخت) چې ننوځي به اور لوی ته (د دوزخ په آخرت کې).

تفسير: يعنې د هغه بد عمل او بد قسمت په برخه چې د دوزخ اور ليکلی دی؛ هغه کله پوهيږي، او له الله تعالى او له خپله انجامه کله ويريږي، چې د نصيحت په لوري متوجّه شي، يا د ښو خبرو په پوهېدلو کې کوښښ وکړي.

ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴿١٣﴾

بيا به نه مري په هغه (اور) کې، او نه به ښه ژوندی وي.

تفسير: يعنې نه مړک ورته راځي چې د هغه ربړونه پای ته رسوي، او نه يې د هوسايي ژوندون په برخه کيږي، هو ! داسې يو ژوندون به ولري چې د هغه په مقابل کې به د مړک غوښتنه کوي، له داسې ژوندون څخه مو دې الله تعالى وساتي.

قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ﴿١٤﴾

په تحقيق بری موندلی په مراد رسېدلی دی هغه څوک چې پاک شوی دی (په ايمان سره له معاصيو).

تفسير: يعنې له ظاهري او باطني، حسي او معنوي نجاستونو څخه پاک شي، او خپل قلب او قالب يې په صحيحو عقائدو او فاضله اخلاقو او صالحه اعمالو او نافعه چارو سره ښايسته کړي.

وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ ﴿١٥﴾

او ياد کړي نوم د رب خپل (په تکبير سره) بيا يې لمونځ وکړ (چې ننبه د اسلام ده).

تفسير: يعنې پاک او صاف شوي، د تحريمې په تکبير کې يې د خپل پروردګار نوم واخيست، بيا يې لمونځ وکړ، ځينې اسلاف وايي چې: د تزکيې نه مراد زکات دی، چې دلته د هغه مطلب د فطر صدقه ده، او له ﴿وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ﴾ څخه د اختر تکبيرونه مراد دي، او په ﴿فَصَلَّىٰ﴾ کې د اختر د لمانځه ذکر دی، يعنې د اختر په ورځ کې يې اول «صدقة الفطر» سرسايه بيا تکبيرونه بيا لمونځ وکړ، ښکاره خو هغه رومبنی وينا ده.

بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿١٦﴾ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿١٧﴾

بلکه تاسې غوره کوئ ژوندون لږ خسیس په آخرت باندې ای منکرانو. حال دا چې آخرت خیر غوره ده (له دنیا نه) او (تل تر تله ښه) باقي دی.

تفسیر: یعنې دا ښېګڼه تاسې ته ای منکرانو څنګه حاصلیږي، چې تاسې هیڅ د آخرت فکر نه کوئ، بلکه د دنیا ژوندون او د دې ځای، عیش، عشرت، هوسایي او چرچې د اعتقاد یا د عمل له مخې په اخروي چارو باندې زیاتې بولئ، حال دا دی چې دنیا حقیره او فاني او آخرت په زرهاوو ځلې له هغې څخه ښه او پایه دار دی، بیا د تعجّب ځای دا دی: هغه څیز چې د (کم) او (کیف) او نورو له پلوه بهتر دی، هغه څنګه پرېښودی شي؟ او چتې او خرابې چارې ولې غوره کولی شي؟.

اِنَّ هٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى ﴿١٨﴾ صُحُفِ اِبْرٰهِيمَ وَمُوْسٰى ﴿١٩﴾

بېشکه دا خبرې خامخا په صحیفو ړومبنیو کې دي. چې صحیفې د ابراهیم او (د) موسی دي.

تفسیر: یعنې دا مضمون چې له ﴿قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى﴾ څخه تر ﴿وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى﴾ پورې دی په پخوانیو کتابونو کې هم لیکلی شوی دی، او هیڅ وخت منسوخ شوی او بدل شوی نه دی، نو په دې اعتبار لا ټینګ او مؤکد شو.

تمّت سورة الأعلى بفضل الله تعالى ومنّه وكرَمه.

سُورَةُ الغَاشِيَةِ

«د (الغاشية) سورت مکّي دی، (۲۶) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۸۸) په نزول کې (۶۸) سورت دی، د «الذاریات» له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ ﴿١﴾

په تحقیق راغلی دی تاته (ای محمده !) خبر د پټوونکې (د خلقو په سختیو خپلو سره چې ورځ د قیامت ده).

تفسیر: یعنې هغه خبره د اورېدلو وړ ده چې پټوونکې د خلقو ده په هیبتونو او په سختیو خپلو کې.

تنبیه: (له غاشیې پټوونکې) څخه مراد قیامت دی، چې پر ټولو مخلوقاتو چاپېریږي، او د هغه په اثر به پر ټولو مخلوقاتو باندې محیط وي.

وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ﴿٢﴾ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴿٣﴾

ځینې مخونه به په دغه ورځ (د قیامت) کې وېرېدونکي او ذلیله وي. تکلیف ایستونکي رنځ راښکونکي به وي.

تفسیر: یعنې په آخرت کې به ربړ (تکلیف) ایستونکي د ربړ ټکاللو په سبب ستړي او ستومانیږي.

تَصْلَىٰ نَارًا حَامِيَةً ﴿٤﴾ تُسْقَىٰ مِنْ عَيْنٍ آنِيَةٍ ﴿٥﴾

ننوځي به اور ډېر ټکرم ته. ورځښل کیږي به پرې له چینې ډېرې ټکرمې څخه (په وخت د غلبې د تندې کې).

تفسیر: یعنې کله چې د دوزخ تودوخې د هغوی په باطن کې سخته ټکرمې پیدا کړي؛ دوی بې اختیاره «تږي وږي یو» ناړې وهي، چې ښایي د اوبو له ځښلو څخه به د دوی دا تنده ماته شي، دلته به د یوې یشېدونکې چینې له اوبو څخه دوی ته اوبه ورکولی کیږي، چې د هغو له ځښلو څخه به د دوی شونډې ورتیږي، او کولمې به یې ټوټې ټوټې لویږي، او بیا به ژر جوړیږي، او همداسې به تل په عذاب ککړ وي (العیاذ بالله).

لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ ﴿٦﴾

نه به وي دوی ته طعام خواړه مګر له اغزي لرونکې ترخې ونې څخه.

تفسیر: «ضریع» یوه اغزي لرونکې ونه ده په دوزخ کې، چې پخپل تریخوالي کې له شبرق یا له مصبر څخه زیات بد خونده او مرداره او په ټکرمې کې له اوره توده ده، کله چې دوزخیان له لوږې څخه په عذاب شي او «وږي یو ! وږي یو» ناړې وهي؛ نو دا «ضریع» یا «ایلوي» یا «شبرق» یا «مصبر» دوی ته ورکول کیږي.

لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِن جُوعٍ ۝٧

چې نه به څربوي بدن (د دوزخي هغه ضريع)، او نه دفع کوي هيڅ لوږه (له دوی نه هغه ضريع).

تفسير: له خوړلو څخه يوائې خوند او لذّت اخيستل يا د ځان څربول يا د لوږې لرې کول يا بل مقصد وي، د (ضريع) له خوړلو څخه دا خبرې هيڅ نه حاصليږي، د خوند او لذّت نشتوالی خو د هغه له نامه څخه ښکاره دی، د نورو دوو فائدو نفي تصريحًا په دې آيت کې ذکر شوه، لنډه يې دا چې هيڅ يو لذيذ او مرغوب طعام او خواړه هغوی هلته نه مومي.

تر دې ځايه پورې د دوزخيانو د حال بيان وو، اوس د دې په مقابل کې الله أكرمَ شأنُهُ وأعظمَ برهانُهُ د جنّتيانو ذکر داسې فرمايي:

وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ۝٨ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ۝٩

ځينې مخونه به په دغې ورځې کې ښايسته او تازه وي. پخپل کوښښ باندې (چې يې کړی وي په دنيا کې) راضي خوشاله به وي (په آخرت کې).

تفسير: يعنې خوښ به وي چې د دوی زيار په ځای شو، او د خپلو ربړو (تکاليفو) او د زحمتونو ګټه يې په ښه ډول سره بياموندله.

فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ۝١٠ لَّا تَسْمَعُ فِيهَا لَاغِيَةً ۝١١

په جنت لوړ (اوچت) شانداره کې به وي. نه به اوري په هغه (جنّت) کې کومه چټې خبره.

تفسير: يعنې په جنّت کې هيڅوک چټې او اپلټې خبرې نه اوري، د کنځلو او د رذالت هيڅ يوه ټبه هلته نه ليدله کيږي.

فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ۝١٢

په دغه (جنّت) کې چينه ده جاري بهيدونکې.

تفسير: يعنې په جنّت کې يوه عجيبه ډول چينه ده، او ځينو مفسّرينو دا «عين» پر جنس باندې حمل کړې ده، او وايي چې په جنت کې ډېرې چينې بهيږي.

فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ۝١٣ وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ ۝١٤

په دغه (جنّت) کې دي تختونه (لپاره د کښاستلو د جنّتيانو) لوړ (اوچت) عاليشان. او جامونه اينبودلي شوي (په اندازه د څښونکيو خپلو).

تفسير: کله چې يې وغواړي چې ويې څښي؛ هيڅ ډيل او ځنډ به نه پکې کيږي.

وَنَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ ۝١٥

او (په دغه جنّت کې دي) بالښتونه اينبود شوي په درجه څنګ په څنګ (جنّتيانو ته).

تفسير: يعني په ډېر نزاکت او لطافت او په ښه قرينه او ترتيب سره به غوړېدلي وي، لويې تکيې او بالښتونه به ځای په ځای کې ايښود شوي وي، چې کله به په يوه کيني، او کله به په نورو تکيه وهي.

وَّزَرَابِيُّ مَبْثُوثَةٌ ﴿١٦﴾

او (په دغه جنّت کې دي) فرشونه فاخره غړولي شوي.

تفسير: تر څو هر کله او په هر ځای کې چې د جنّتيانو زړه غواړي؛ هلته آرام او هوسايي او له يوه ځايه د بل ځای د تګ راتګ او وړلو او راوړلو تکليف ورته نه وي.

أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾

نو آيا پس نه ګوري (منکران په نظر د عبرت سره) اوښانو ته چې څرنګه پيدا کړی شوی دی؟.

تفسير: چې د نورو حيواناتو او څاروو په نسبت د اوښ هيئت او خاصيت دواړه خورا عجيب او غريب دی.

وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾

او (آيا نه ګوري منکران) اسمان ته چې څرنګه بلند اوچت کړی شوی دی (بې له ستنو).

تفسير: يعني اسمان پرته له ښکاره ستنې او پايې او رسۍ او نورو څخه پورته شوی دی.

وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾

او (آيا نه ګوري منکران) غرونو ته چې څرنګه درولي شوي دي.

تفسير: چې د يوې ذرې په اندازه له خپلو ځايونو څخه نه خوځيږي، او دغه غرونه د الله تعالى په قدرت سره له دغومره لويوالي پخپلو ځايونو کې ټينګ ولاړ دي.

وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾

او (آيا نه ګوري منکران) ځمکې ته چې څرنګه غوړولې شوې ده.

تفسير: چې ځمکه د خپل لويوالي په سبب د خپل کروي شکلتوبه بيا هم مسطّحه ښکاري، نو ځکه پرې هستوګنه اوسېدل اسان دي، د ابن کثير (رحمه الله) په وينا: د دې شيانو تخصيص ځکه شوی دی، چې د عربو خلق زياتره په بيدياوو ځنګلونو کې ګرځېدل، او په دې وخت کې به زياتره د هغوی تر سترګو لاندې همدا څلور شيان وو، د سورلۍ اوښ، پاس اسمان، ښکته ځمکه، شاوخوا غرونه، نو د دې لامله په همدې علاماتو او نښو باندې د فکر وهلو او جاج کولو ارشاد شوی دی.

فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾

نو ته يې وپوهوه (پند ورکړه ای محمده ! دوی ته)، بېشکه همدا ته پند ورکوونکی پوهوونکی وېرووونکی يې. نه يې ته پر دوی باندې مسلّط کړی شوی (چې په زور يې مسلمانان کړې).

تفسير: يعنې كله چې دا خلق سره د واضحه دلائلو له قيام څخه غور نه كوي؛ نو تاسې د هغوى زيات فكر مه كوئ، ځكه چې تاسې يواځې د پند ورکولو لپاره ليږلي شوي يئ، كه دوى نه پوهيږي؛ نو تاسې په هغوى باندې محصل او داروغه ټاكلي شوي نه يئ، چې په زور او زياتى سره يې په هغوى باندې ومنئ، او د هغوى زړونه په بل لوري واوړي، دا كار د مقلّب القلوب دى، او دا په جهاد باندې له امر نه مخكې وو.

إِلَّا مَنْ تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ اللَّهُ الْعَذَابَ الْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ ﴿٢٦﴾

مګر هغه څوك چې وګرځېد (له ايمانه) او كافر شو. نو په عذابوي به يې الله په عذاب لوى (د آخرت) سره. بېشكه خاص مونږ ته دى بېرته راتګ د دوى (په قيامت كې). بيا بېشكه ځمونږ پر غاړه دى حساب د دوى (نو سم له اعمالو به جزاء مومي).

تفسير: يعنې هغه كسان چې د الله تعالى له طاعت څخه مخ اړوي، او د هغه له آيتونو څخه انكار كوي؛ هغه د آخرت په لوى عذاب او د الله تعالى له سختې سزا څخه ځان نشي ژغورلى، يقيناً هغوى يوه ورځ ځمونږ په لوري راتلونكي دي، او مونږ به له هغوى څخه د يوې يوې ذرې حساب اخلو، لنډه دا چې تاسې خپله فريضه اداء كړئ، او د هغوى مستقبل مونږ ته وسپارئ !.

تمّت سورة الغاشية بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ الفَجرِ

«د (الفجر) سورت مکّي دی، (۳۰) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۸۹) په نزول کې (۱۰) سورت دی، وروسته د (اللّیل) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَالْفَجْرِ ۝١ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ۝٢ وَّالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ۝٣ وَالَّيْلِ اِذَا يَسْرِ ۝٤

قسم دی په فجر صباح باندې. او په شپو لسو باندې. او په جفت باندې، (او قسم دی په) طاق باندې. او په شپه باندې کله چې ځي راځي توره تیاره کیږي.

تفسیر: د صبا نه مراد عام صبا دی، او یا د لوی اختر د ورځې صبایي، او د لسو شپو څخه مراد د لوی اختر لس ورځې دي، او د جفت څخه مراد د لوی اختر ورځ او د طاق څخه د عرفې ورځ مراد ده، او د دې څیزونو په مراد کې نور اقوال هم شته، چې په ذکر کولو یې خبره اوږدیږي، خو دا قول په کې راجح معلومیږي، والله أعلم.

هَلْ فِيْ ذٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِيْ حِجْرٍ ۝٥

آیا شته په دې قسمونو کې لوی قسم پوره خاوند د عقل ته (چې اعتبار پرې وکړي؟ هو ! شته !).

تفسیر: یعنې دا قسمونه معمولي نه دي، ډېر معتبر او مهتم بالشان دي، پوهان پوهیږي چې د کلام د تأکید لپاره په دې کې یو ځانته عظمت او خاص وقعت مونده کیږي، او محذوف ځواب د قسم دا دی: یعنې خامخا به په عذاب کړی شئ تاسو ای منکرانو ! وروسته له دې نه، الله أجلّ وأعظمَ برهانُهُ د ځینو منکرینو د تعذیب ذکر فرمایي چې:

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ۝٦ اِرَمَ

آیا نه وینې نه یې خبر ته (ای محمده !) چې څه کړي دي رب ستا (له قبیلې د اول) د عادیانو سره چې ارم وو.

تفسیر: «عاد» د داسې یوه سړي نوم دی چې د هغه قوم د ده په نامه باندې یادیږي، د ده په نیکونو کې یو سړی (ارم) نومېده، د ده په لوري له نسبت کولو څخه ښایي داسې اشاره وي چې دلته له (عاد) څخه اول (عاد) مراد دي، او دویم (عاد) نه دي، ځینې وایي چې د عاد د قوم شاهي کورنۍ ته «ارم» ویل کېدل، والله أعلم.

ذَاتِ الْعِمَادِ ۝٧

چې خاوندان د قوّت قامتونو لویو وو (یا خاوندان د لویو ستونو وو).

تفسير: يعنې ستنې يې ودرولې، او لوی لوی عمارتونه يې جوړ کړل، يا يې دا مطلب دی چې ډېر ځلي په سير او سياحت مشغول وو، او په لويو وڅېکو او ستنو باندې يې کېږدی يا خيمې درولې، د ځينو په نزد له ﴿ذَاتِ الْعِمَادِ﴾ څخه مراد د هغوی اوږده قدمونه، لوی قدونه او جګې ونې او نور لوړ شيان دي، چې په تشبيه سره ويلي شوي دي.

الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ ﴿٨﴾

هسې (قبيله) چې نه وه پيدا کړی شوې مثل د هغې (په قوّت قدرت کې) په ټولو ښارونو کې.

تفسير: يعنې په هغه وخت کې د هغه قوم غوندې بل کوم قوم هسې مضبوط او طاقتور نه وو، يا دا چې د هغوی عمارتونه بې ساري او مانې بېمثالې وې.

وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ﴿٩﴾

او (څه کړي وو رب د تا له) ثموديانو هغو سره چې کنستلې غوڅې کړې يې وې لويې تيږې (ګټې) په کنده کې.

تفسير: «وادي القرى» د هغه ځای نوم دی چې هلته تيږې تورلې کېدې، او بيا يې له هغو څخه ډېرې محفوظې او مضبوطې مانۍ جوړولې.

وَفِرْعَوْنَ ذِي الْأَوْتَادِ ﴿١٠﴾

او (څه کړي وو رب د تا له) فرعون سره چې خاوند د (ډېرو لښکرو) ميخونو وو.

تفسير: يعنې لوی لښکر لرونکی چې د هغه د فوځي ضروريانو لپاره به ډېر زيات ميخونه په کار کېدل، يا دا چې خلقو ته به يې په ميخونو سزا ورکوله.

الَّذِينَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ﴿١١﴾ فَأَكْثَرُوا فِيهَا الْفَسَادَ ﴿١٢﴾ فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ﴿١٣﴾

هسې (سړي وو دوی ګرد) چې سرکشي يې کړې وه په ښارونو کې. بيا يې ډېر کړی وو په هغو (ښارونو) کې فساد ورانی. نو نازله کړه پر دوی باندې رب ستا (قمچينه) متروکه د عذاب.

تفسير: يعنې هغه باغي قومونه د عيش، دولت، زور او قوّت په نشو کې مست شوي په ملکونو کې يې ښه شورماشور، جنګ جنجال، فتنه فساد جوړ کړ، زيات شرراتونه يې وکړل، نو وروسته له دې نه چې د هغوی د کفر، تکبّر، جور، ستم کندول ډک شو، او مهلت او د ټال مدّت يې پوره شو؛ ناڅاپه قهّار الله د خپل عذاب قمچينې او متروکې پرې وورولې، او د هغوی ګرد قوّت او لويي يې له خاورو سره برابره کړه، او د دوی سازوسامان يو هم په کار نشو.

إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ﴿١٤﴾

بېشکه رب ستا په ځای د انتظار کې دی (اعمالو د دوی لره چې سم د دوی له عملونو سره جزاء هغوی ته ورکړي).

تفسير: يعنې الله تعالى خلک ځاري، د دوی ويناګانې اوري، او په حال يې خبر دی، هر يو ته به د عمل بدله ورکول کيږي، او ټول مخلوقات به ده ته وړاندې کيږي، په خپل عدل به پرې فيصله کوي.

فَأَمَّا الْإِنسَانُ إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ فَأَكْرَمَهُ وَنَعَّمَهُ ۙ فَيَقُولُ رَبِّي أَكْرَمَنِ ﴿١٥﴾

پس هر چې انسان بني آدم (دی) کله چې وازمويي دی (په راحت سره) رب د ده، پس عزّت ورکړي ده ته او نعمت ورکړي ده ته؛ نو وايي رب ځما عزّت راکړه ماته.

تفسير: يعنې زه د همدې خبرې وړ (لايق) وم، نو ځکه يې عزّت راکړ.

وَأَمَّا إِذَا مَا ابْتَلَاهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ ۙ فَيَقُولُ رَبِّي أَهَانَنِ ﴿١٦﴾

او کله چې (الله) وازمويه دی (په زحمت سره) پس تنګ کړي پر ده باندې رزق روزي د ده؛ نو وايي رب ځما سپک کړم زه.

تفسير: يعنې ځما هيڅ قدر يې ونه کړ، لنډه يې دا چې د هغوی سترګې دنيوي ژوندون او حاضره حالت ته دي، او يواځې د دنيا همدا موجوده راحت او تکليف د خپل عزّت او ذلّت معيار ګڼي، او په دې نه پوهيږي چې په همدې دواړو حالتونو کې د هغه امتحان او ازمينه مقصد ده، نعمت درکوي تر څو وګوري چې تاسې يې شکر وباسئ؟ او ربړ درپېښوي چې آيا تاسې خپل صبر او رضا پکښې ښکاره کولی شئ؟.

(نو الله أكرم شأنُهُ وأعظم برهانُه) داسې فرمايي:

كَلَّا ۖ بَل لَّا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ ﴿١٧﴾

داسې دې نه وايي، بلکه تاسې اکرام احسان نه کوئ پر يتيم پلار مړي باندې.

تفسير: يعنې د الله جل جلاله په دربار کې به ستاسې څنګه عزت وي؟ چې تاسې د بېکسانو او يتيمانو د زړه ساتنه او عزّت نه کوئ، يعنې نه دی دا عزت او ذلت په ډېروالي او لږوالي د مال سره، ځکه چې اکرام په طاعت او اهانت په معصيت سره دی، بلکه فعل ستاسې ډېر قبيح دی له قول ستاسو نه، ځکه چې اکرام درسره کړی الله په غناء سره، او تاسو نه کوئ احسان له يتيمانو سره.

وَلَا تَحَاضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ ﴿١٨﴾

او نه تېزوئ تاسې يو بل په طعام (خواړه ورکولو د محتاجانو) د مسکينانو.

تفسير: يعنې له خپل مال او شتو څخه د مسکينانو لاس نيوی، څه چې چېرې نورو ته هم داسې يو شی نه وايئ چې د ده په ويلو او تېزولو سره هغوی له وړې او بې وځلي سره امداد او معاونت او مرسته وکړي.

وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا ﴿١٩﴾

او خورئ تاسې مال د ميراث په خوړلو ټولو ډېر سره.

تفسير: يعنې د مړي په پنګه او ميراث اخيستلو کې د حلال او حرام او حق او باطل څه تميز نشته، څه يې چې په لاس ورشي؛ خوري يې، او پخپل دغه عمل سره دا راښيئ که د مسکينانو حقوق تلف کيږي؛ تلف دې شي.

وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ﴿٢٠﴾

او مينه کوئ تاسې له مال سره په مينې ډېرې سره.

تفسير: يعني ربښتيا خبره دا ده چې ستاسې زړونه د مال د حرص او محبت سره ډک دي، او بس همدا غواړئ چې په څه ډول مو مال په لاس راشي، او يو پول مو هم په يوه ښه کار کې له لاسه ونه وځي، که مخ کې هر څه راپيښيږي؛ راپيښ دې شي، او له مال او دولت سره دومره مينه او محبّت چې هغه د خپل مقصود کعبه ګرځوئ، او د اسلاميت په لاره کې يې خرڅ نه کړئ، دا خو يواځې د کافرانو دود (رواج) او دستور دی.

كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿٢١﴾

نه ده داسې، او مه کوئ (دغسې بد کارونه، يا حقه ده) کله چې وټکوله ماته شي ځمکه په ټکولو ماتولو سخته سره.

تفسير: ګردې غونډۍ او غرونه به واړه واړه شي، ځمکه به بالکل صافه او هوار ميدا شي.

وَجَآءَ رَبُّكَ

او راشي رب ستا.

تفسير: يعني رابه شي رب ستا (د بندګانو د فيصلې لپاره) هغسې چې د هغه له شان سره ښايي، او وړ (لايق) وي.

وَٱلْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴿٢٢﴾

او راشي پرښتې صف صف (قطار قطار چاپېرېدونکې پرانسانانو او پيريانو باندې).

تفسير: يعني د محشر په ميدان کې، يا رائي هلته انتظاماتو لره پورې په پورې صف په صف.

وَجِاْيٓءَ يَوْمَئِذٍۭ بِجَهَنَّمَ

او رابه وست شي په هغې ورځې کې دوزخ.

تفسير: يعني په لکونو پرښتې به هغه له خپله ځايه څخه په راښکودلو سره د محشريانو په مخ کې راحاضر کړي.

يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَٰنُ وَأَنَّىٰ لَهُ ٱلذِّكْرَىٰ ﴿٢٣﴾

په دغې ورځې کې به پند واخلي ياد کړي انسان (خپل افراط) او څه ګټه فائده به نه ورکړي ده ته په دغه وخت کې پند اخيستل (بلکه هيڅ فائده نه رسوي).

تفسير: يعني هلته به وپوهيږي چې په سختې غلطۍ او غفلت کې وم، مګر هغه پوهېدل به څه په کار ورشي؟ ځکه چې د پوهېدلو او سنجولو وخت به له لاس څخه وتلی وي، هغه چارې چې په دار العمل کې کېدې، په دار الجزاء کې کله کېدی شي؟.

يَقُولُ يَٰلَيْتَنِى قَدَّمْتُ لِحَيَاتِى ﴿٢٤﴾

وايي: څنګه به ښه وو ما لره که څه مې مخکې ليږلي وی لپاره د (دې) ژوند (د آخرت) خپل (يا پخپل ژوندانه کې).

تفسير: يعني افسوس د دنيا په ژوندون کې مې څه نيکي نه ده کړې چې هغه له ما څخه په مخکې دلته رارسيدلي وی، او اوس به مې په دغه اخروي ژوندون کې په کار راتلی، همداسې تش لاس را راهي شوی

يم، كاشكې د حسناتو كومه ذخيره مې له مخه ليږلې وى چې دلته ځما پانګه او ذخيره ګرځېدلې او په كار به مې راتلى !.

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٢٥﴾ وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٢٦﴾

نو په دغې ورځې كې به نه په عذابوي (په مثل) د عذاب د دغه (الله) هيڅوک. او نه به قيدول كوي (په مثل) د قيدولو د دغه (الله) هيڅوک.

تفسير: يعنې الله تعالى به په دغې ورځې كې مجرمانو ته داسې سختې سزاوې وركوي، او په داسې سختې بنديخانې كې به اچول كيږي چې د هغې ساري او مثال د بل مجرم په حق كې متصوّر نه دى.

يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾ ٱرْجِعِىٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿٢٨﴾ فَٱدْخُلِى فِى عِبَٰدِى ﴿٢٩﴾ وَٱدْخُلِى جَنَّتِى ﴿٣٠﴾

اى نفسه آرام نيوونكيه (په ذكر ځما شاكر په نعمت ځما صابر په زحمت ځما) !. وګرځه (له دنيا نه) په طرف د رب خپل حال دا چې راضي خوښ به يې ته (له الله څخه او الله) راضي خوښ (به وي له تا څخه). بيا ننوځه په (نېكانو) بندګانو ځما كې. او ننوځه په جنّت ځما كې (سره له نورو مقرّبانو).

تفسير: اول د مجرمانو او ظالمانو حال بيان شو، اوس د هغه په مقابل كې د هغو خلقو انجام ښودل كيږي چې د هغوى زړونو ته د الله تعالى د يادولو څخه آرام خوند او راحت په برخه كيږي، هغوى ته به په حشر كې ويل كيږي: آ راحت نيوونكيه نفسه ! په الله تعالى باندې، په هغه حقيقي محبوب باندې چې تا خپل زړه ترې لى وو، اوس نو له هر راز جګړو او اندېښنو څخه ګوښه اوسه !، او تل په خوښى او هوسايى سره خپل ژوند تېروه !، او هغه نژدې ځاى ته ورشه چې خاصو بندګانو ته تاكلى شوى دى، او ځما د مخصوصو بندګانو په ډله كې ځان ګډ او داخل كړه، او په عاليشان جنّت كې هستوګنه كړه.

تنبيه: د مطمئنه نفس، د امّاره نفس، د لوّامه نفس تحقيق دې د «القيامة» د سورت په شروع كې وكتل شي !.

تمّت سورة الفجر بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ البَلَدِ

«د (البلد) سورت مکي دی، شل آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۹۰) په نزول کې (۳۵) سورت دی، وروسته د (ق) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

لَا أُقْسِمُ بِهَٰذَا الْبَلَدِ ﴿١﴾ وَأَنتَ حِلٌّ بِهَٰذَا الْبَلَدِ ﴿٢﴾

قسم خورم په دې بلد ښار باندې چې (مکّه ده). حال دا چې خاص ته به خلاص شې (په تا به څه قید ممانعت نه وي) په دې ښار کې (چې هر څوک وژنې یا یې پرېږدې په یو ساعت د ورځې کې).

تفسیر: په مکې معظمې کې هر سړی له جنګ کولو څخه ممنوع دی، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو واړې د مکې په فتحې کې دا ممانعت پاتې نشو، او هر چا چې له هغوی سره جنګ کاوه؛ د هغه وژل به روا کېده، تر دې چې لوی مجرمان د کعبې شریفې د ډېوالونو تر څنګ هم ووژل شول، نو وروسته له دې ورځې څخه بیا همغه ممانعت تر نن پورې ېرته قائم شو.

تنبیه: ځینو د ﴿وَأَنتَ حِلٌّ بِهَٰذَا الْبَلَدِ﴾ معنی «وأنت نازلٌ» اخیستې ده، یعنې زه قسم خورم په هغه ښار باندې په هغه حال کې ته پکې پیدا شوی یې، او په کې هستوګنه لرې.

وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ ﴿٣﴾

او قسم دی په پلار او په هغه باندې چې له ده څخه ځېرېدلي دي.

تفسیر: یعنې آدم او بني آدم، او ځواب د قسم دا دی:

لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي كَبَدٍ ﴿٤﴾

چې خامخا په تحقیق پیدا کړی دی مونږ انسان بني آدم په رنځ او مشقّت کې.

تفسیر: یعنې آدم علیه السلام له ابتداء څخه تر انتهاء پورې په رنځ او مشقّت اخته دی، او راز راز سختي په ده باندې تېرېږي، هیڅ داسې کېدونکي نه دي چې یو سړی پخپل ټول عمر کې د څه مدّت له مخې د دنیا د ګردو پېښو او چارو، محنتونو، رنځونو څخه فارغ او آزاد وي، او په پوره آزادۍ او بېفکرۍ سره ژوندون کوي، په رښتیا سره د انسان اصلي فطرت داسې واقع شوی دی، چې دی خپل ځان له دغو سختیو او جنجالونو څخه نه شي ژغورلی.

أَيَحْسَبُ أَن لَّن يَقْدِرَ عَلَيْهِ أَحَدٌ ﴿٥﴾

آیا ګمان کوي (کافر انسان) چې بېشکه له سره به قادر نشي په ده باندې هیڅوک (چې بدل تر واخلي)؟.

تفسير: يعنې انسان چې د هغو سختيو او مشقّتونو په لارې تيريږي، نو د هغه اقتضاء خو داسې ده چې په ده کې عجز او درماندګي پيدا شي، او خپل ځان د قضا د حکم تړلی وګڼي، او د احکامو مطيع او د رضا تابع او په قضاء صابر وي، او هر کله خپل احتياج او افتقار تر نظر لاندې ونيسي !، خو انسان دا خبره بالکل هېره کړې ده، نو آيا انسان داسې ګڼي چې داسې يوه هستې شته چې انسان د هغې تر حکم لاندې وي، او دوی ته د دې سرکشی او سرغړولو سزا ورکړی شي؟ بلکه الله أعظم شأنُه وأعظم برهانُهُ دی !.

يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ﴿٦﴾

وايي (له فخره) ما خرڅ کړی وو مال خورا ډېر (په دښمنی د محمد کې).

تفسير: يعنې د الله تعالى په معصيت، د رسول الله صلى الله عليه وسلم په عداوت، او د اسلام په مخالفت کې له حده تېر مال خرڅ کوي، او په داسې خرڅ کولو ځان باتور او ځلمی هم ګڼي.

أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُ أَحَدٌ ﴿٧﴾

آيا ګمان کوي دی چې بېشکه نه دی ليدلی دی هيڅا (په وخت د خرڅ د مال کې).

تفسير: يعنې الله تعالى دا ګرد شيان ګوري او وينې، او هومره مال په هر نيت سره په هر ځای او په هر څيز باندې چې ولګاوه شي؛ هغه ګرد ورته ښه معلوم دي، نو د دروغو او ريا څخه هيڅا ته هيڅ يوه ګټه نه رسيږي.

أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ عَيْنَيْنِ ﴿٨﴾

آيا نه دي ورکړي مونږ ده ته دوه سترګې (چې پرې وګوري، بلکه ورکړي مونږ ده ته دوه سترګې).

تفسير: يعنې هغه چاته چې ما د ليدلو سترګې ورکړي دي آيا هغه پخپله نه ګوري؟.

وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ﴿٩﴾

او (آيا نه دي ورکړي مونږ ده ته يوه) ژبه او دوه شونډې.

تفسير: چې له هغه څخه په خبرو اترو او خوړلو او څښلو کې کار اخيستل کيږي.

وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ ﴿١٠﴾

او ښوولې دي مونږ ده ته دوه لارې (د خير او شر، چې پرې جنّت يا دوزخ ته ځي).

تفسير: يعنې د ښو او بدو دواړه لارې يې ورښوولې دي، تر څو چې ځان له بدې لارې څخه وژغوري، او په ښه لاره تګ وکړي، او د دې خبرې ښوونه په اجمالي ډول سره د عقل او فطرت په وسيله شوې ده، او تفصيل يې د پيغمبرانو او مرسلانو په واسطه او د هغوی په ژبه شوی دی.

تنبيه: ځينو له «نجدين» څخه د ښځو دوه تي مراد اخيستي دي، يعنې رودونکيو ماشومانو او ووړکو ته يې د تي او د خوړو پيدا کولو لاره ورښوولې ده، چې پس له پيدا کېدلو ترې شوده څښې او خوري.

فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ﴿١١﴾

نو ربړ (تکليف) يې ونه ايست په ختلو د غونډې کې (او سختي يې تېره نه کړه په مخالفت د نفس او هوا کې).

تفسير: ځينو د «عقبه» معنى د تېرېدلو سخت ځای او غونډې اخيستې ده، يعنې سره له دومره زياتو انعاماتو او د هدايت د اسبابو له موجوديته دوی دا توفيق ونه موند چې د دين په صعب المرور غونډې وخيژي، او سختي او ربړ په ځان واخلي، او د مكارم الأخلاق مدارج طي کړي، او د فوز او فلاح لوړو ځايونو ته ځان ورسوي.

تنبيه: ديني کارونه يې په غونډې سره ځکه تشبيه کړي دي چې د نفس او هوا د مخالفت په نسبت د هغه پای ته رسول سړي ته ډېر شاق وي، او ربړ پېښوي.

وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾

او څه شي پوه کړی يې ته چې څه دي ختل د غونډې؟. (عقبه) خلاصول د غاړې دي.

تفسير: يعنې (عقبه) د مريي آزادول يا د پور (قرض) وړي غاړه له پوره قرضه خلاصول دي.

أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾

يا (دا عقبه) ورکول د طعام ډوډۍ دي په هغې ورځې کې چې خاونده د لوږې وي.

تفسير: يعنې عقبه د قحطى او قيمتى او سختى په ورځو کې له وږي سره مرستې کول او هغوی ته د خوړو شيان وربرابرول دي.

يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾

يتيم ته چې خاوند د خپلوی وي. يا غريب ته چې په خاورو ککړ وي (يا خاوند د خاورې).

تفسير: د وړو کي پلار مړي خدمت کول ثواب دی، او له خپلوانو قرابت لرونکيو سره ښېګڼه هم ډېر ثواب لري، چېرې چې دا دواړه ثوابونه يو ځای شي؛ نو د هغې ثواب هم دوچنده کيږي.

عقبه ډوډۍ طعام ورکول دي د لوږې په ورځې کې غريب ته چې په خاورو ککړ وي، او د فقر او له فاقې د تنګسی او خواری څخه په خاورو کې رغړي، نو د مال د لګولو ځايونه ښايي چې داسې وي، نه دا چې د ښادۍ او د غم په فضولو رسمونو کې او د الله تعالى په نافرمانۍ کې مالونه ولګول شي، او دنيوي نقصان او اخروي خسران وګټلی شي.

ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا

بيا وي (دغه آزاد کوونکي طعام ورکوونکي) له هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی.

تفسير: يعنې د ګردو عملونو مقبوليت او د منلو شرط «ايمان» دی، که ايمان نه وي؛ نو ګرد کارونه او عملونه چټي او فضول دي، او هيڅ په کار نه راځي.

وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾

او وصيت كوي يو له بله سره (په طاعت او مصيبت او له معصيته) او وصيت كوي يو له بله سره په مهربانۍ او شفقت سره.

تفسير: يعنې نورو ته تل تأكيد كوي چې ښايي د حقوقو او فرائضو په اداء كولو كې هر راز سختۍ او ربړونه پر خپل ځان وګالي، او د هر ډول تكليف تحمل وكړئ !، او د الله تعالى پر مخلوق باندې رحم كوئ !، تر څو چې د اسمان خاوند پر تاسې باندې ورحميږي.

أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾

دغه (صابران مهربانان مؤمنان) اصحاب، خاوندان د ښي طرف دي.

تفسير: يعنې دا كسان ډېر خوش نصيب او مبارك دي، چې هغوى ته د دوى اعمالنامې له ښي خوا په ښي لاس ورسپارلى كيږي.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا هُمْ أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ ﴿١٩﴾

او هغه كسان چې كافران شوي دي په آيتونو ځمونږ همدوى اصحاب خاوندان د كين طرف دي.

تفسير: يعنې هغه كسان چې بد نصيب منحوس خراب شامت لرونكي دي چې اعمالنامې يې په كين لاس كې وركولى كيږي.

عَلَيْهِمْ نَارٌ مُؤْصَدَةٌ ﴿٢٠﴾

وي به پر دوى باندې اور سرپوښ كړى شوى.

تفسير: يعنې په دوزخ كې اچول كيږي، او دوزخ ګردې دروازې ترې كيږي، (أعاذنا الله منها).

تمّت سورة البلد بفضل الله الصمد، فلله الحمدُ والمنّة.

سُورَةُ الشَّمْسِ

«د (الشمس) سورت مکي دی، (۱۵) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۹۱) او په نزول کې (۲۶) سورت دی، وروسته د (القدر) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا ﴿١﴾ وَالْقَمَرِ إِذَا تَلَاهَا ﴿٢﴾

قسم دی په لمر باندې او په رڼا د هغه باندې. او په سپوږمۍ باندې کله چې راځي په دغه (لمر) پسې.

تفسیر: یعنې د لمر له ډوبېدلو څخه وروسته کله چې د سپوږمۍ رڼا خوره شي.

وَالنَّهَارِ إِذَا جَلَّاهَا ﴿٣﴾

او (قسم دی) په ورځ باندې کله چې ښکاره کاندي دغه (لمر).

تفسیر: یعنې کله چې په ورځ کې لمر د خپلې پوره پلوشې او روشنایي او صفایي سره رڼا غورځوونکی شي.

وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَاهَا ﴿٤﴾

او (قسم دی) په شپه باندې کله چې پټ کړي هغه (لمر) په تیاره خپله کې.

تفسیر: یعنې کله چې د شپې تیاره ښه توره شي، او د لمر د رڼا هیڅ نښه او پته نه وي.

وَالسَّمَاءِ وَمَا بَنَاهَا ﴿٥﴾

او (قسم دی) په اسمان، او په هغه (ذات باندې) چې جوړ کړی یې دی هغه (اسمان).

تفسیر: یعنې په هغه شان او عظمت سره چې له لرې ښکاري هغه یې جوړ کړی دی، او د ځینو په نزد له ﴿وَمَا بَنَاهَا﴾ څخه مراد د هغه جوړوونکی دی أکرم شأنُه وأعظم برهانُه، جل جلالُه وعم نواله.

وَالْأَرْضِ وَمَا طَحَاهَا ﴿٦﴾

او (قسم دی) په ځمکې او په هغه (ذات باندې) چې غوړولې یې ده هغه (ځمکه).

تفسیر: یعنې په هغه حکمت سره یې هغه وغوړوله، او د مخلوق د هستوګنې وړ یې وګرځوله، دلته هم ځینو ﴿وَمَا طَحَاهَا﴾ څخه د هغه غوړوونکی مراد اخیستی دی، أکرم شأنُه وأعظم برهانُه، جل جلالُه وعم نواله.

وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا ﴿٧﴾

او (قسم دی) په نفس او په هغه (ذات باندې) چې برابر کړي یې دي (اندامونه د) هغه.

تفسير: د مزاج اعتدال، ظاهري او باطني حواسيه طبيعيه او حيوانيه او نفسانيه قواوې يې په تناسب سره ورکړې دي، او د نېکۍ او د بدۍ په لارې باندې يې د تللو استعداد ورعطا فرمايلی دی.

فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا ﴿٨﴾

پس ښوولی يې ده په زړه د ده کې بدي د ده او نيکي د ده.

تفسير: يعنې اول يې په اجمالي ډول د سليم عقل او صحيح فطرت په وسيله په ښو او بدو کې د فرق کولو پوهه راکړې ده، بيا يې په تفصيلي صورت د انبياوو او رسولانو په ژبه ښه ښکاره رابښودلي دي چې دا لار د بدۍ ده، او هغه د پرهېزګارۍ ده.

او ځواب د دغو پاس قسمونو چې د دغه سورت له شروع څخه شروع شوي دي دا دی:

قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا ﴿٩﴾

چې په تحقيق سره نجات وموندە په مراد ورسېد هغه څوک چې پاک يې کړ دا (نفس له معاصيو).

تفسير: د نفس پاکول او صفايي دا ده چې شهواني او غضباني قواوې د عقل تابع شي، او عقل د الهيه شريعت تابعدار وګرځي، تر څو چې روح او قلب دواړه د الله تعالی په رڼا کې رڼ او منور شي.

وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا ﴿١٠﴾

او په تحقيق نامراد زيانمن شو هغه څوک چې پټ يې کړ دغه (نفس په خاورو د ګناهونو کې).

تفسير: له خاورو پټ کولو څخه مطلب دا دی چې د نفس متروکه يې له يوې مخې د شهوت او د غضب په لاس ورکړي، او له عقل او شرعې سره هيڅ ارتباط او اړه ونه لري، ګواکې د هوس او د نفساني غوښتنې مريي او بنده شي، داسې سړی له ځناورانو څخه خراب او ذليل وي.

كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوَاهَا ﴿١١﴾

دروغجن شمېرلی وو ثمودیانو (رسول خپل) په خپلې سرکشۍ سره.

تفسير: يعنې صالح عليه السلام يې دروغجن وبالله، دا د ﴿وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا﴾ يو مثال يې د عبرت په شان بيان وفرمايه، دا قصه د «الأعراف» په سورت او نورو ځايونو کې په تفصيل سره ذکر شوې ده:

إِذِ انبَعَثَ أَشْقَاهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ نَاقَةَ اللَّهِ وَسُقْيَاهَا ﴿١٣﴾

کله چې پورته شو (په چابکۍ سره) لوی بدبخت د هغوی. پس وويل دوی ته رسول د الله (خبردار پر ېږدئ، لاس پورته کړئ له) اوښې د الله، او د اوبو څښلو د نوبت د هغې (چې درباندې رانشي عذاب).

تفسير: يعنې خبردار دا اوښه ونه وژنئ !، او نه د هغې د وار او نوبت اوبه بندې کړئ !، د اوبو ذکر يې ځکه وفرمايه چې په ښکاره ډول د هغې د وژلو سبب د هغوی د لوري همدا اوبه وې، او د الله تعالی اوښه يې ځکه وويل؛ چې پاک الله

تعالى هغه د صالح عليه السلام د نبوّت معجزه او نښه ګرځولې وه، او په دې اعتبار سره د هغې احترام واجب بلل شوی وو، دا قصه پخوا له دې نه په (الأعراف) او نورو سورتونو کې هم یاده شوې ده:

فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا ۖ فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمْ فَسَوَّىٰهَا ﴿١٤﴾

نو دروغجن وباله دغو، پس زخمي او مړه يې کړه هغه (اوښه)؛ نو سخت عذاب يې ولېږه په دوی باندې رب د دوی په سبب د ګناه د دوی، نو برابر يې کړل سره دغه (ټول په هلاک کې).

تفسير: صالح عليه السلام فرمايلي وو: ﴿وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ «په دې اوښې باندې په بدې سره لاس مه لګوئ؛ په خوږوونکي عذاب به ککړ شئ»، دې خلقو دا خبره دروغ وګڼله، او د خپل پيغمبر تکذيب يې وکړ، او اوښه يې ووژله، په پای کې هم هغه وشو چې صالح عليه السلام ويلي وو، الله تعالى هغوی ټول لوی او واړه پناه کړل.

وَلَا يَخَافُ عُقْبَٰهَا ﴿١٥﴾

او نه ويريږي (الله) له عقوبت او هلاکت د دوی څخه.

تفسير: يعنې لکه دنيوي باچاهانو ته د کوم لوی قوم يا ملک له سزا ورکولو څخه وروسته تل دا فکر او خيال وي چې چېرې بيا هلته کوم شورش او فتنه پيدا نشي، او د ملک په انتظام او په ملکي او لښکري چارو کې څه خلل او ډيل رانښکاره نشي، الله تعالى له داسې اندېښنو څه پاک او بې پروا دی، ولې چې داسې بل کوم يو قوّت او طاقت نشته، چې د دې په هېداد رسېدليو مجرمانو په کسات اخيستلو او انتقام پسې وګرځي، (العياذ بالله).

تمّت سورة الشّمس بفضل الله تعالى وكرمه ومنّه.

سُورَةُ اللَّيْلِ

«د (اللّيل) سورت مکي دی، (۲۱) آيته يوه رکوع لري، په تلاوت کې (۹۲) او په نزول کې (۹) سورت دی، وروسته د (الأعلى) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَىٰ ﴿١﴾ وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ﴿٢﴾ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ ﴿٣﴾ إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتَّىٰ ﴿٤﴾

قسم دی په شپه کله چې پټ کړي (هر شی په تياره خپله سره). او (قسم دی) په ورځ باندې کله چې روښانه شي. او (قسم دی) په هغه ذات باندې چې پيدا کړی يې دی نارينه او ښځه (له يوه اوبو نه. او ځواب د قسم دا دی) چې بېشکه سعي عملونه ستاسې خامخا راز راز دي (چې ځينې طاعت کوي او ځينې معصيت).

تفسير: يعنې همغسې چې په دنيا کې ورځ او شپه، نر او ښځه مختلف او متضاد شيان پيدا کړی شوي دي، د دې مختلفو اعمالو او مساعيو ثمرې او نتيجې هم مختلفې دي، چې د هغو نتائج او ثمرات به مختلف او متضاد وي، لکه چې د هغو ذکر اوس الله جل شأنُه وأعظم برهانُه سره له اختلاف او مجازات يې دغسې فرمايي:

فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَاتَّقَىٰ ﴿٥﴾ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَىٰ ﴿٦﴾ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَىٰ ﴿٧﴾

نو هر چې هغه څوک دي چې ورکړه يې کوله (د مال)، او وېرېده (له الله). او يقين يې کړی وو په ښه کلمه (د ايمان). نو ژر ده چې تيار به يې کړو لپاره د لارې اسانې (شريعت).

تفسير: يعنې هغه سړي چې په نېکه لاره کې مال لګوي، او په زړه کې له الله تعالى څخه ويريږي، او اسلامي خبرې رښتيا ګڼي، او پر ربّاني بشاراتو باندې باور لري او صحيح يې ګڼي؛ د هغه لپاره به مونږ سم له خپل عادت سره د نېکۍ لارې ور اسانوو، او په پای کې به يې د اسانۍ او راحت مقام ته رسوو، چې د هغه نوم جنّت دی.

وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَىٰ ﴿٨﴾ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَىٰ ﴿٩﴾ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَىٰ ﴿١٠﴾

او هر چې هغه څوک دي چې بخيلي يې وکړله (په اداء د حقوقو)، او بې پروايي يې وکړله (له الله). او دروغ يې وګڼله ښه کلمه (د ايمان). نو ژر ده چې تيار به يې کړو لپاره د لارې سختې (د بد عملۍ).

تفسير: يعنې هغه سړی چې د الله تعالى په لاره کې يې خرڅ ونه کړ، او د هغه د خوښې او د آخرت د ثواب پروا يې ونه کړه، او د اسلام خبرې او د الله تعالى وعدې يې دروغ وبللې؛ د هغه زړه ورځ په ورځ تنګ او تياره او کلکيږي، د نېکۍ توفيق ورځنې سلبيږي، او په پای (آخر) کې په ورو ورو د عذاب الله انتهايي سختي وررسيږي، همدا د الله تعالى عادت دی چې نېکان هر کله ښې چارې ځان ته غوره کوي، او بدان هر کله په بد عمل پسې ګرځي، دې دواړو ته د همدوی لارې ور اسانوي، چې هغوی هغه سم د الله تعالى له تقدير سره او د خپلې ارادې او اختيار له مخې کړی دی.

وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدَّىٰ ﴿١١﴾

او نه دفعه کوي له ده څخه (عذاب) مال د ده کله چې هلاک شي په کنده کې ولويږي.

تفسير: يعنې هغه مال او دولت چې دوی پرې ډاډه دي، او دوی يې له آخرت څخه بې پروا کړي؛ هغه د يوې ذرې په قدر هم دوی له عذاب څخه نه خلاصوي.

إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَىٰ ﴿١٢﴾ وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولَىٰ ﴿١٣﴾

بېشکه پر مونږ دی خامخا هدايت سمه صافه لاره ښوول. او بېشکه مونږ ته دی خامخا آخرت او دنيا (يعنې زه مالک د دې دواړو يم، نو خطا کوي هغه چې دا دواړه غواړي له بل چا نه).

تفسير: يعنې ځمونږ د حکمت داسې اقتضاء نه ده چې ځوک په زور او زيادت سره په ښو يا بدو چارو باندې مجبور کړو، هو ! ځمونږ په ذمه او غاړه ده چې ګردو ته د ښو او بدو لارې وروښيو، او ښه او بد ورښکاره کړو، او د دواړو نتيجې په ښه شان ورته ووايو، بيا هر چا چې هره لاره ځان ته غوره کړه په دنيا او آخرت کې به سم له هغې سره جزا ورکاوه شي.

فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّىٰ ﴿١٤﴾

نو وويرولئ ما تاسې (ای منکرانو) له اوره چې لمبې به وهي.

تفسير: له دې لمبې وهونکي څخه به ښايي د دوزخ هغه طبقه مراد وي چې خورا لويو مجرمانو او بدبختانو لره مخصوصه ده.

لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى ﴿١٥﴾ الَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٦﴾

نه به ننوځي (په طريقه د دوام سره) په هغه (اور د دوزخ) کې مګر لوی بدبخت (کافر) هغه چې درواغ ګڼي حق او مخ يې ترې ګرځولی وي.

تفسير: يعنې تل به هلته لويږي، او هيڅکله به له هغه ځايه نه وځي.

وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى ﴿١٧﴾

او ژر ده چې ګوښه (بېل) به شي له هغه اوره ښه وپرېدونکی (مؤمن).

تفسير: يعنې د داسې خلقو سپېرمو ته د هغه وږمه هم نه رسيږي، او بالکل ورځنې صاف او پاک او ژغورلي وي.

الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾

هغه چې ورکوي مال خپل لپاره د دې چې پاک شي.

تفسير: يعنې د نفس پاکول له بخل او طمع او نورو رذائلو څخه په داسې ډول مقصود دي، چې ريا، نمايش، او دنيوي اغراض هيڅ په کې نه وي.

وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُۥ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَىٰٓ ﴿١٩﴾ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٢٠﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴿٢١﴾

او نه وو هيچا لره په نزد د ده هيڅ احسان او نعمت چې بدل يې ورکاوه شي. مګر لپاره د غوښتنې د مخ د رب خپل چې اوچت دی (چې د الله تعالی مخ ووينې، او دهغه رضا يې نصيب شي). او ژر دی چې دی به راضي شي.

تفسير: يعنې له خرڅ کولو څخه يې د کوم مخلوق احسان او د حق اداء کول مقصد نه وي، بلکه خالص د مولی د رضا او د پاک الله د لقاء د تمنّا کولو لپاره خپل کور او شته خيراتوي او لوټوي، نو داسې څوک دې ډاډه وي چې هرومرو به خوښيږي او د هغه دا هيله به پوره کيږي: ﴿فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ﴾

تمّت سورة اللّيل بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ الضُّحَىٰ

«د (الضّحیٰ) سورت مکي دی، (۱۱) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۹۳) او په نزول کې (۱۱) سورت دی، وروسته د (الفجر) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَالضُّحٰى ۝١ وَالَّيْلِ إِذَا سَجٰى ۝٢ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ۝٣

قسم دی په څاښت (چې روښانه دی). او قسم دی په شپه کله چې تیاره شي (او پټ کړي اشیا په تیاره خپله کې). چې نه دی درکړی رخصت تاته (نه یې پریښی) رب ستا، او نه یې دښمن نیولی یې ته (ای محمده !).

تفسیر: په صحیحو روایتونو کې راغلي دي چې تر ډېر مدّت پورې پر محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې وحي رانغله، او جبریل علیه السلام محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رانغی، مشرکینو به پخپلو منځونو کې وویل: «وګورئ چې (محمد) د خپل الله له لوري رخصت کړ شو»، د دې خبرې په ځواب کې دا آیتونه نازل شول، ځما په ګمان (والله أعلم) چې دا زمانه د فترت الوحي زمانه وه، کله چې د قرآن د ﴿اِقْرَأْ﴾سورت ابتدائي آیتونه نازل شول، نو وروسته له هغه تر یو اوږد مدّت پورې وحي راتلل معطّل پاتې شول، او پخپله رسول أکرم صلی الله علیه وسلم به د دې فترت په زمانه کې ډېر مغموم او پرېشان وو، تر دې چې د الله تعالی له خوا پرښتې هغوی ته د ﴿يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾خطاب واوراوه، اغلبًا په دې زماني کې به مخالفانو داسې خبرې کولې لکه چې ابن کثیر (رحمه الله) له محمد بن اسحاق (رحمه الله) او نورو څخه هغه الفاظ چې نقل کړي دي هغه د دې احتمال تأیید کوي، ممکن دي چې په دغه وخت کې به دا قصه هم پېښه شوي وي چې په ځینو صحیحه روایتونو کې راغلې ده، چې یو ځلې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ناروغۍ له سببه دوه درې ورځې په بستره کې پرېوت، نو یوې خبیثې ښځې وویل: «ای محمده ! داسې رانښکاري چې ستا شیطان له تا څخه مرور شوی دی»، العیاذ بالله لنډه یې دا چې دا راز چتې (بېکاره) خبرې او اترې ډېرې کېدې، تر دې چې د دې ګردو خرافاتو په ځواب کې د ﴿وَالضُّحٰى﴾ سورت نازل شو، او رومبی یې قسم یاد کړ د لمر ختو په وخت باندې، او بیا یې په توره تیاره شپه باندې، او بیا یې وفرمایل چې: د دښمنانو دا ګرد خیالات او ویناوې غلطې دي، ستا پروردګار تاته رخصت نه دی درکړی، بلکه هسې چې ښکاره ده هغه د خپل قدرت او حکمت راز راز علائم او نښې ښکاره کوي.

وَلَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى ۝٤

او خامخا آخرت بهتر دی تا لره (ای محمده !) له دنیا څخه.

تفسیر: یعنې ستاسې وروستنی حالت له وړاندنې حالت څخه ډېر ارفع او اعلی دی، د دې څو ورځو د وحي نه راتګ ستاسې د نزول او انحطاط سبب ګڼلی نشي، بلکه ستاسې د ډېر عروج او د خورا ارتقاء وسیله ګڼي، که د وروستنې حالت تصور وکړئ، او د آخرت شان او لویی ته ځیر شئ چې هلته به آدم علیه السلام او د هغه ګرده اولاده ستاسې تر

بیرغ لاندې ټولیږي، نو در ښکاره به شي چې د تاسې د هغې ورځې لویي او فضیلت او عظمت د نن ورځې د اعزاز او اکرام څخه په څو څو درجو پورته وي.

وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ ﴿٥﴾

او خامخا ژر ده چې در به کړي تاته رب ستا (ای محمده لویه برخه په آخرت کې او اختیار د شفاعت) پس راضي به شې ته.

تفسیر: یعنې ښزاري او پرېښودل به څنګه وي، اوس خو به تاته ستا رب په دنیا او آخرت کې دومره دولتونه او نعمتونه در وښنې؛ چې ته پوره ډاډه او خوښ شې.

أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ﴿٦﴾

آیا نه یې وې موندلی ته (ای محمده) یتیم (وړو کی بې پلاره، بلکه موندلی یې وې) نو ځای د پناه یې درکړ (په تربیت د ابوطالب کې یې ونیولې).

تفسیر: د محمد صلی الله علیه وسلم د باسعادت ولادت څخه پخوا د دوی پلار مړ شوی وو، شپږ کلن وو چې مور یې هم مړه شوه، په اته کلنۍ کې یې نیکه عبد المطّلب چې د دوی کفالت ورپغاړه وو هم مړ شو، بیا د دې یتیم او نادر روزګار د ظاهرًا روزنې او پالنې سعادت د ده بېحده مهربان او شفیق تره ابو طالب ته په غاړه شو، ابو طالب پخپل ژوندون کې د دوی په نصرت، حمایت، تکریم، تبجیل او خدمت کې ډېر زیار وویست، خو پخوا له هجرت څخه دی هم مړ شو، څو ورځې وروسته د الله تعالی دا أمانت د مدینې منورې د انصارو په برخه شو، او د (اوس) او د (خزرج) د قبیلې د قسمت ستوري وځلېدل، او دوی د هغوی په خدمت او حفاظت کې ډېر ربړونه وګالل، او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دغسې ښه خدمت او صیانت یې وکړ چې په ټول جهان کې د هغه نظیر او مثال نشته، دا ګردې پېښې درجه په درجه تر ایواء لاندې رائي لکه څرنګه چې ابن کثیر (رحمه الله) ورته اشاره کړې ده.

وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ ﴿٧﴾

او موندلی یې وې ته چې نه پوهېدې (په شرع او احکامو د شریعت)، نو در ویې ښوده (تاته شرعي احکام او در یې کړ نبوّت).

تفسیر: یعنې کله چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ځلمی شو، د خپل تېر د مشرکانه وو اطوارو او چټې (بېکاره) رسمونو او رواجونو څخه سخت خفه او بېزاره وو، او د هغوی په زړه کې یواځې د الله تعالی د عبادت جذبه په قوّت کې وه، خو په ښکاره ډول کومه سمه لاره او مفصّل دستور العمل دوی ته نه وو څرګند، تر څو چې الله تعالی د (حراء) په سمځ کې د پرښتې په ژبه دوی ته وحي وروليږله، او د «وصول الی الله» او د خلق الله د اصلاح تفصیلي لارې یې وروښودلې، یعنې د حق دین یې ورنازل کړ: ﴿مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ وَلَٰكِن جَعَلْنَاهُ نُورًا نَّهْدِي بِهِ مَن نَّشَاءُ مِنْ عِبَادِنَا﴾ (د ۲۵ جزء د شوری سورت (۵) رکوع (۵۲) آیت).

وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ ﴿٨﴾

او موندلی یې وې ته فقیر پس غني یې کړې (په مال د غنیمت یا په مال د خدیجې یا د زړه په غناء سره).

تفسير: په دې شان چې دوی د خديجې رضي الله تعالى عنها په تجارت کې مضاربت شروع کړ، او په هغه کې يې ګټه وکړه، بيا خديجې رضي الله تعالى عنها له دوی سره نکاح وکړه، او خپل ګرد مال يې هغوی ته تمليک کړ، چې دا ښکاره غناء ده، د دوی باطني او قلبي غناء هغه وه چې هغه د دواړو دارينو غني ذات ته ښه معلومه ده، او هيڅ يو سړی د هغې اندازه نشي کولی، مطلب دا چې تاسې له ابتداء څخه د انعاماتو مورد يئ، او پس له دې نه به هم يئ، هغه الله تعالى چې په دې ډول ستا تربيت کړی دی؛ نو څرنګه به له تاسې څخه بېزاره کيږي؟ او تاسې به همداسې خوشې په ډګر کې پريږدي.

فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ۝٩ وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ ۝١٠ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ۝١١

نو هر چې يتيم دی پس مه ورته په قهر کېږه. او هر چې سوالګر دی پس مه يې رټه. او هر چې نعمت د رب ستا دی پس بيانوه يې خلقو ته.

تفسير: بلکه د يتيم خبر نيونه او پالنه وکړه !، لکه چې تاته الله تعالى د يتيمې په حالت کې ښه ځای درکړ؛ نو ته هم د يتيمانو د زړه د خوښۍ اسباب ورغونډوه !، او د هغوی د هستوګنې د ځای سر رشته کوه !، چې په داسې مکارمو اخلاقو سره بندګان د الله تعالى په رنګ سره رنګول کيږي: ﴿صِبْغَةَ اللَّهِ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ صِبْغَةً﴾ رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «أنا وكافل اليتيم كهاتين، وأشار إلى السّبّابة والوسطى».

او هر چې سوالګر دی پس مه يې رټه !، او څه شی ورته ورکړه !، يا يې رد کړه په نېکۍ او خوږې ژبې سره، يعنې ته نادار وې الله تعالى تاته غناء دروښلې، اوس نو د شکر ګزارو بندګانو حوصله ښايې چې داسې وي چې د غوښتونکي له غوښتنې څخه زړه تنګي نه شي !، او د حاجتمندانو له سواله ونه ويريږي !، او هغو ته سختې خبرې ونه وايي !، او ويې نه رټي !، بلکه تل په رونې تندي او ښو اخلاقو او لوی زړه معامله ورسره وکړې، هغه قصې چې په احاديثو کې د رسول أكرم صلى الله عليه وسلم د اخلاقو د وسعت په نسبت د سائلينو په مقابل کې راغلي دي؛ خورا سخت مخالفان هم د هغوی د اخلاقو د وسعت ستايونکي ګرځوي.

او هر چې نعمت د رب ستا دی نو بيانوه يې خلقو ته، د محسن د احساناتو يادول د شکر ويلو په نيت، نه د فخر او مباهاتو په ډول شرعًا محمود دي، نو ځکه هغه انعامات چې الله تعالى په تا باندې کړي دي؛ د هغه بيان وفرمايئ !، خصوصًا هغه نعمت د هدايت چې د هغه ذکر په ﴿وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ﴾ کې وشو، و د هغه خورول په خلقو کې او په ښکاره لوړ غږ سره ويل ستاسې منصبي فرض دی، ښايي د دوی ارشادات او خبرې او نور چې په حديثو کې کيږي؛ د همدې ﴿فَحَدِّثْ﴾ څخه اخيست شوی وي، والله أعلم.

تمّت سورة الضُّحى بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ الشَّرحِ

«د (الانشراح) سورت مکي دی، (۸) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۹۴) په نزول کې (۱۲) سورت دی، وروسته د (الضّحی) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ۝١

آیا نه ده پراخه کړې مونږ تا لره سینه ستا (په نبوّت او حکمت سره، بلکه پراخه کړې ده مونږ سینه ستا).

تفسیر: چې الله تعالی ستا په سینې کې یې (ای محمده !) د علومو او د معارفو لوی سیندونه وبهول، او د نبوّت د لوازمو او د رسالت د فرائضو د بار د پورته کولو لوی قوّت او حوصله یې درته وبښله، او د داسې لوی زړه او حوصلې څښتن یې وګرځولې، چې د ډېرو دښمنانو د عداوت او مخالفت او مزاحمت څخه نه ویرېدې.

وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ ۝٢ الَّذِيْٓ اَنْقَضَ ظَهْرَكَ ۝٣

او کوز کړ مونږ له تانه دروند بار ستا. هغه چې کړه، درنه کړې یې وه شا ستا.

تفسیر: د وحي نښکته کېدل په اول کې سخت مشکل وو، بیا آسان شول، یا د رسالت منصب د ذمه واریو د محسوسولو په سبب چې د هغوی په مبارک خاطر کې څه ګراني راتله هغه ور پورته کړه شوه.

وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ۝٤

او پورته کړ مونږ ستا لپاره ذکر ستا (په نبوّت سره یا مې ستا نوم له خپل نامه سره پیوسته کړ).

تفسیر: یعنې ای محمده ! صلی الله علیه وسلم په پرښتو او پیغمبرانو کې ستا نوم لوړ او اوچت دی، د دنیا ګرد پوهان په ډېر عزّت او وقعت سره ستا نوم یادوي، په اذان، اقامت، کلمه طیبه او التحیات، خطبه او نورو کې وروسته د الله تعالی له نامه څخه د محمد صلی الله علیه وسلم نوم اخیست کیږي، کوم ځای کې چې الله تعالی خپلو بندګانو ته د خپل اطاعت امر کړی دی؛ د محمد صلی الله علیه وسلم د امر د منلو یې هم ورسره متّصل او جخت کړی دی.

فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝٥ اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝٦

نو بېشکه سره له سختۍ اسانتیا شته. بېشکه سره له سختۍ اسانتیا شته.

تفسیر: یعنې د الله تعالی د رضا غوښتلو په لاره کې هغه ربړونه چې نبي صلی الله علیه وسلم په ځان ګاللي دي، او هغه زیارونه چې ایستلي یې دي؛ له هغو سختیو سره څو څو اسانۍ هم شته، لکه د حوصلې د پراختیا په سبب د ګردو مشکلاتو لرې کول اسان شول، او د ذکر د پورته کېدلو له تصوّر څخه تاسې ته د لویو لویو مصیبتونو تحمل اسان

وګرځېده، يا دا مطلب کله چې مونږ تاسې ته روحاني راحت درکړ، او روحاني کلفت مو له تاسې څخه پورته کړ، لکه چې د ﴿اَلَمۡ نَشۡرَحۡ﴾ څخه تر آخره پورې ښکاريږي، نو په دنيوي راحت او محنت کې هم ځمونږ فضل او کرم ته هيله ولرئ، مونږ وعده کوو چې په رښتيا سره د دې موجوده وو مشکلاتو په پای (آخر) کې اساني شته، لکه چې له احاديثو او سِيرو څخه راښکاره شوې ده، هغه ګرد مشکلات يو يو له منځه لرې شوي، او د هرې يوې سختۍ په پای کې به څو څو اسانتياوې راتللې.

فَإِذَا فَرَغۡتَ فَٱنصَبۡ ۝٧ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَٱرۡغَب ۝٨

نو کله چې فارغ شې (ای محمده دنيوي کارونو نه، يا له تبليغه)؛ نو ځان سترې کوه (په عبادت، دعاء کې) او رب خپل ته پس رغبت او زاري کوه (په هر وقت کې).

تفسير: يعنې کله چې د دنيا له کارونو يا د خلقو له پوهولو څخه فارغ شې؛ نو په خلوت کې کښه، زيار (محنت) کوه !، چې د زيات «يسر» سبب وګرځي، او د خپل رب په لوري بلا واسطه متوجه شه !.

تمّت سورة الانشراح بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ التِّينِ

«د (التّين) سورت مکي دی، (۸) آيته يوه رکوع لري، په تلاوت کې (۹۵) په نزول کې (۲۸) سورت دی، وروسته د «البروج» له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ ﴿۱﴾

قسم دی په انځر او زيتون خونه باندې.

تفسير: انځر او خونه (زيتون) دواړه د خپل کثير المنافع او د جامع الفوائد توب لامله د انساني حقيقت او د جامعې له ضرورت سره خصوصي مشابهت لري، نو ځکه د ﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴾ مضمون يې په دواړو قسمونو سره شروع کړ، او ځينې محققين وايي چې: دلته «التين» او «الزّيتون» څخه هغو دوو غرونو ته اشاره ده چې بيت المقدس ته نژدې پراته دي، ځکه دلته په ونو باندې قسم نه يادوي، بلکه په هغه مقدّس ځای باندې قسم يادوي چې هلته دا ونې ډېرې دي، او همغلته د عيسى عليه السلام مولد او مبعث هم دی.

وَطُورِ سِينِينَ ﴿۲﴾ وَهَٰذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ ﴿۳﴾

او قسم دی په (غره چې نوم يې) طور سينين (دی)، او قسم دی په دې ښار امان ورکوونکې (د مکې) باندې.

تفسير: «طور سينين» يا د «طور سينا» هغه غر دی چې پر هغه باندې الله تعالى له موسى عليه السلام سره خبرې کړې دي، او د امن ورکوونکی ښار مکه معظمه ده چې ځمونږ او د ځکه د اسلامي عالم سردار محمد صلى الله عليه وسلم په کې متولد او مبعوث شوی دی، او د الله تعالى له ځکه دو څخه لوی او وروستنی امانت قرآنکريم اول ځلي په همدې ښار کې رانازل شوی دی.

لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴿۴﴾

چې خامخا په تحقيق پيدا کړی دی مونږ انسان بنې آدم په ډېر ښه اعتدال سره.

تفسير: يعنې دا ځکه متبرّکه مقامات چې له هغه څخه ډېر اولوالعزم پيغمبران مبعوث شوي دي ځکواه دي چې مونږ انسان په يوه ښه قالب کې اچولی دی، او ښه قوّتونه مو وربښلي دي، او په ظاهري او باطني ښېګڼو مو ښايسته کړي دي، او ډېر ځکټور شيان مو د ده په وجود کې راغونډ کړي دي.

ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ ﴿۵﴾

بيا وځکرځاوه مونږ هغه (انسان په ضمن د بعضو افرادو کې) ډېر ښکته تر ښکتو نه (چې لاندنۍ طبقه د دوزخ ده).

تفسير: يا رد به کړم دغه انسان پس له ښه قامته ډېر ښکته له ښکتو نه چې هغه زوړوالی دی، نو شا به يې ټيټه، وينښته به يې سپين، غوږونه به يې کاڼه شي، او مغير به يې شي ټول څيزونه.

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٦﴾

مګر هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه) نو وي به دوی ته اجر ثواب بې انتهاء بلا انقطاع.

تفسير: چې نه به کم او نه به ختم شي، او نه به د چا احسان پرې وي.

فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ ﴿٧﴾

پس څه شی دی چې تا باعث کوي په دروغ ګڼلو (ای منکر د بعثه) وروسته (له دې واضحو دلائلو) په ورځ د جزاء؟.

تفسير: يعنې ای سړيه ! وروسته له دې دلائلو څخه ته ولې د جزاء له سلسلې څخه سر غړوې؟ او ترې انکار کوې؟.

نو د دې خبرې ځواب الله أعلى شأنهُ ! وأعظم برهانُهُ ! جل جلالهُ ! عمّ نوالهُ ! داسې فرمايي:

أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ ﴿٨﴾

آيا نه دی الله ښه لوی حاکم د ټولو حاکمانو؟ (بلکه ښه لوی حاکم دی پر ټولو حکم کوونکيو باندې).

تفسير: يعنې د دې لويې شهنشاهۍ او سترې ټولواکۍ په مخامخ د دنيا ګرد دولتونه او حکومتونه هيڅ دي، کله چې دلته دا وړوکي وړوکي حکومتونه خپلو وفادارانو ته انعام او مجرمانو ته سزا ورکوي؛ نو آيا د هغه أحكم الحاكمين له درباره داسې هيله لرل کومه لويه خبره ده؟.

تمّت سورة التين بفضل الله تعالى وكرمه ومنّه.

سُورَةُ العَلَقِ

«د (العلق) سورت مکّي دی، (۱۹) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۹۶) سورت دی، او په نزول کې همدغه سورت ړومبنی سورت د قرآنکریم دی چې نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ۝١

ولوله (ای محمده ! قرآن) په برکت د نامه د رب خپل هغه رب پالونکی چې پیدا کړي یې دي (ټول مخلوقات).

تفسیر: دا پنځه آیتونه له ﴿اِقْرَأْ﴾ څخه تر ﴿مَالَمْ يَعْلَمْ﴾ پورې د قرآنکریم له ګردو آیتونو او سورتونو څخه مخکښې نازل شوي دي، رسول أکرم صلی الله علیه وسلم د (حراء) په سمځ کې د وحده لا شریک له الله تعالی په عبادت کې مشغول وو، چې ناڅاپه جبریل علیه السلام له وحي سره ورننوت، او ورته یې وویل: ﴿اِقْرَأْ﴾ «ولوله»، دوی وفرمایل: «ما أنا بقارئ» «زه لوستونکی نه یم !»، جبریل علیه السلام څو ځلي دی پخپلې غېږې کې ونیو، او په زور یې کښېښود او ورته ویل به یې: ﴿اِقْرَأْ﴾، دوی به هغمه «ما أنا بقارئ» ویل، درېیم ځلي جبریل علیه السلام دی صلی الله علیه وسلم په ډېر زور سره کښېښود، او ورته ویې ویل: ﴿اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ﴾ «یعنې د خپل رب په نامه او برکت سره ولوله !»، مطلب دا چې هغه پروردګار چې له ولادت څخه یې تر اوسه پورې په عجیب او غریب ډول ستا پالنه او روزنه وفرمایله، هغه څوک چې دا خبر درکوي چې له تا څخه کوم لوی کار اخیست کېږي؛ آیا هغه به دې همداسې یواځې او بې یار او مددګار پرېږدي؟ هیڅ کله به داسې نه کېږي، او تاسې ته د هغه لوی ذات په نامه ښوونه کېږي، چې د هغه په لورینه ستاسې تربیه او روزنه شوې ده، یعنې هغه رب العالمین اعلی شأنهُ وأعظم برهانُهُ چې ګرد شیان یې پیدا کړل؛ نو دا نشي کولی چې تا لوستونکی وګرځوي، بلکه قاري دې ګرځولی شي.

خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۝٢

پیدا کړی یې دی انسان له ټوټو د ټرلیو شویو وینو څخه.

تفسیر: په کلکه وینه کې نه حس دی نه شعور، نه علم دی نه ادراک، یواځې لایعقل جماد دی، بیا هغه الله تعالی دې لایعقل جماد ته عقل او پوهه ورکړه، نو آیا همغه الله تعالی یو عاقل کامل او یو اُمّي قاري کولی نشي؟ بلکه کولی یې شي !، تر دې ځایه پورې د قرائت امکان ثابتول وو، چې الله تعالی ته هیڅ مشکل نه دي چې تا د امیتوبه قاري وګرځوي، وروسته د هغه په فعلیت او وقوع باندې متنبّه کوي.

اِقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ ۝٣

ولوله (ای محمده ! قرآن) حال دا چې رب ستا لوی کریم دی (پر ټولو کریمانو)

تفسير: يعنې په هغه شان سره چې ستاسې تربيت شوی دی، له هغه څخه ستاسې کامل استعداد او پوره لياقت ښکاره دی، کله چې دلته په استعداد کې څه قصور نشته، او الله د لوی فضل خاوند دی، بلکه هغه د ګردو کريمانو څخه لوی کريم دی، بيا به نو د حق د ښوونې په وصول کې څه مانع وي؟ او خامخا همداسې يې کوي.

الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ﴿٤﴾

هغه (رب پالونکی) چې ښوولی يې دی (خط انسان ته) په قلم سره.

عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴿٥﴾

ښوونه يې کړې ده انسان ته د هغو شيانو چې دی پرې نه پوهېده (پخوا له ښودلو).

تفسير: يعنې دا انسان وړوکي چې له مور څخه پيدا کيږي په هيڅ شي نه پوهيږي، بيا نو هغه ورو ورو څوک پوهوي، هغه قدير رب چې له جاهل انسان څخه عالم جوړوي؛ خپل يو امي بنده به نه يوائې کامل عالم کړي، بلکه د ګردو عالمانو سردار يې ګرځوي.

كَلَّا إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَىٰ ﴿٦﴾ أَن رَّآهُ اسْتَغْنَىٰ ﴿٧﴾

رښتيا ده دا خبره، بېشکه انسان خامخا سرکشي کوي. د دې لامله چې وينې ځنې خپل ځان بې پروا (په مال سره).

تفسير: يعنې د بني آدم اصل خو دومره دی چې له ترلې وينې څخه جوړ دی، چې په اول کې محض جاهل وي، وروسته الله تعالی ورته پوهه ورکړي، مګر دی پخپل اصلي حقيقت باندې هيڅ نه پوهيږي، د دنيا په مال او دولت باندې مغروريږي، او د الله تعالی له احکامو ځنې سر غړوي، او داسې يې ګڼي چې زه د هيچا پروا نه لرم.

إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ الرُّجْعَىٰ ﴿٨﴾

بېشکه رب ستا ته (ای انسانه) بېرته ورتلل دي.

تفسير: يعنې په اول کې هم هغه الله تعالی ای انسانه ته يې پيدا کړی يې، او آخر ته هم د همغه په لوري په آخرت کې ستا ورتګ دی، او هلته به د دغو طاغيانو منکرانو تکبّر او لويي او د ځان هېرولو حقيقت ښکاريږي.

أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَىٰ ﴿٩﴾ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰ ﴿١٠﴾

آيا وينې ته هغه (ابو جهل) چې منع کوي بنده (محمد) کله چې لمونځ کوي.

تفسير: يعنې دا تمرّد او سر غړول وګوره چې دی پخپله هم د خپل پروردګار په دربار کې سر نه ښکته کوي، او د عبادت توفيق يې ور په برخه نه دی، نو که بل بنده الله تعالی ته سجده ږدي؛ هغه ته هم کتی نه شي، په دې آيتونو کې لعين ابو جهل ته اشاره ده، ځکه چې هغه به کله رسول الله صلی الله عليه وسلم په لمانځه کې وليد؛ نو خپله خوله به يې شلوله، او تخويف او تهديد به يې کاوه، او زيار به يې کوو چې هغوی ته په هر ډول چې وي څه نه څه ضرر ورسوي.

أَرَءَيْتَ إِن كَانَ عَلَى ٱلْهُدَىٰٓ ﴿١١﴾ أَوْ أَمَرَ بِٱلتَّقْوَىٰٓ ﴿١٢﴾ أَرَءَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١٣﴾

آيا وينې ته که چېرې وی (دا بنده) په لارې سمې صافې باندې. يا امر حکم کوي خلقو ته په تقوی سره. آيا وينې ته که (دا منع کوونکی) تکذيب (د رسول الله) کوي او مخ ګرځوي له ايمانه (نو جزاء به مومي سم له خپل حال او اعمال سره).

أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ ٱللَّهَ يَرَىٰ ﴿١٤﴾

آيا نه پوهيږي دغه (منکر کافر) په دې چې بېشکه الله وينې (اعمال د ده نو جزاء به پرې ورکړي؟).

تفسير: يعنې د هغه رټلي ملعون هغه شرارتونه او د دې ښه بنده دا خشوع او خضوع دواړه پاک الله وينې.

كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًۢا بِٱلنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾

داسې نه ده ورې (لايق)، قسم دی که نه شو منع دی (له بد عمله)؛ نو خامخا به يې سخت راکاږو په ويښتو د وچولي (تندي) سره.

تفسير: يعنې پرېږده ! هغه منکر کافر په دغو ګردو خبرو باندې ښه پوهيږي، خو بيا له خپل شرارت څخه لاس نه اخلي، ښه اوس ښه غوږ وباسه ! که دوی له خپلو شرارتونو ځنې لاس وانه خيست؛ نو مونږ به هم هغوی لکه د څاروو او ذليل بنديانو غوندې د وچولي (تندي) له ويښتو او څنګه څخه نيولي د دوزخ په لوري يې راکاږو.

نَاصِيَةٍ كَٰذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ﴿١٦﴾

په داسې وچولي (تندي) سره چې دروغجن خطا کار دی(خاوند يې).

تفسير: يعنې د هر چا په سر باندې چې دا څنې وي؛ نو د هغه سر به له دروغو او ګناهونو ځنې ډک وي، ګواکې د هغوی ګناهونو او دروغو به د هغوی د سر په ويښتو کې سرايت کړی وي.

فَلْيَدْعُ نَادِيَهُۥ ﴿١٧﴾ سَنَدْعُ ٱلزَّبَانِيَةَ ﴿١٨﴾

پس راودې بولي اهل د مجلس خپل. ژر ده چې مونږ به هم راوبولو ملائکې سختې د عذاب.

تفسير: يو ځلې ابو جهل وليد چې رسول الله صلى الله عليه وسلم لمانځه ته روان دی، نو په مخ کې يې ورته ودرېد، او غوښت يې چې دوی له لمانځه څخه ستون کړي، دوی په سختی سره ورسره خبرې وکړې، نو هغه وويل: «ته خبر نه يې چې په مکې کې ځما جرګه لويه ده»، نو دلته داسې فرمايلي شوي دي: «چې اوس هغه د خپلې جرګې ملګري دي وغواړي، چې مونږ د هغوی د هېداد او سزا ورکولو ته د عذاب ملائکې راغواړو، وليده شي چې څوک بريالي کيږي»، لکه چې څو ورځې وروسته د «بدر» په ډګر کې يې وليد، چې د اسلام مجاهدينو به په څه ډول هغه راکشاوو، د «بدر» په «قليب» او کوهي کې يې وغورځاوه، دا وو د هغه عارضي کشول، خو اصلي راکشول به يې د آخرت په ميدان کې وي، چې د دوزخ پرښتې به هغه په ډېر ذلّت سره راکشوي، او په جهنّم کې به يې غورځوي.

كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِب ﴿١٩﴾

نه ده داسې لکه چې وايي، مه وړه فرمان د ده (خبره يې مه منه)، او سجده لمونځ کوه، او نژدې شه (الله ته په طاعت سره).

تفسير: يعنې تاسې د هغوی پروا هيڅ ونه کړئ !، او د هغوی خبرو ته غوږ مه ږدئ !، چېرې مو چې زړه شي؛ په ډېره خوښۍ سره د الله تعالى عبادت کوئ !، او هر کله د هغه لوی دربار ته په سجده سر ږدئ ! او د هغه پاک الله ذات قرب او لا نژدېوالی ځان ته ګټئ !، په حديث کې دي: «بنده له ګردو حالتونو څخه په سجده کې زيات خپل الله تعالى نه نژدې کيږي».

تمت سورة العلق بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ القَدرِ

«د (القدر) سورت مکي دی، (۵) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۹۷) او په نزول کې (۲۵) سورت دی، وروسته د «عبس» له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ ﴿١﴾

بېشکه مونږ نازل کړی مو دی دغه (ټول قرآن) په شپه د قدر کې.

تفسیر: یعنې قرآنکریم له لوح محفوظ څخه د دنیا پر اسمان د قدر په شپه کې نازل کړ شو، او بنایي په همدغې شپې کې د دنیا له اسمان څخه په محمد صلی الله علیه وسلم باندې یې هم نزول شروع شوی وي، په دې موضوع څه مضمون د (دُخان) په سورت کې لیکلی شوی دی، هلته دې ولوست شي.

وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ﴿٢﴾ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ﴿٣﴾

او څه شي پوه کړی یې ته (ای محمده !) چې څه ده شپه د قدر (د عزّت او شرافت له پلوه؟). شپه د قدر خیر غوره ده له زرو میاشتو څخه.

تفسیر: یعنې په دې شپې کې نیکي کول داسې دي لکه چې تر زرو میاشتو پورې سړي نیکي کړي وي، بلکه زیات له دې څخه هم.

تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم

نازلیږي ملائکې او روح په دغه شپه کې په اذن حکم د رب د هغوی.

تفسیر: یعنې د الله تعالی په حکم روح القدس جبریل علیه السلام د ډېرو پرښتو په هجوم کې رانازلیږي، ځکه چې پرښتې د رحمتونو او برکتونو په وخت کې نازلیږي، ممکن دي له «روح» څخه برسېره پر ملائکو کوم بل مخلوق مراد وي، په هر حال په دې بختورې شپې کې د باطني ژوندون او روحاني خیر او برکت یو خاص نزول دی.

مِّن كُلِّ أَمْرٍ ﴿٤﴾ سَلَامٌ هِيَ

لپاره د هر کار (ټاکلي «مقرر» شوي په دغه راتلونکي کال کې). امان سلامتیا ده (له هر آفته).

تفسیر: یعنې د عالم د نظام په نسبت کوم کارونه چې په دې کال کې مقدّر وي؛ د هغو د نفاذ د تعیین لپاره پرښتې راځي، لکه چې د (دُخان) په سورت کې ولیکل شو، یا له ﴿مِّن كُلِّ أَمْرٍ﴾ څخه به د خیر امر مراد وي، یعنې له اسمان څخه هر راز د خیر امور له ځان سره اخلي، او د ځمکې په لوري رابښکته کیږي، والله أعلم.

﴿سَلَٰمٌ﴾: «امان سلامتیا ده له هر آفته، یا نه ده دغه شپه مګر خو سلامتیا ده له آفاتو او بلیّاتو نه»، یعنې هغه شپه د امن، هوسایی، ډاډینې (تسکین) او د زړه د خوښۍ شپه ده، په دغې شپې کې د الله جل جلاله خاص بندګان په یوه عجیب او غریب طمأنیت او لذّت او حلاوت سره پخپلو عباداتو کې مصروف او مشغولیږي.

هِيَ حَتَّىٰ مَطْلَعِ الْفَجْرِ ۝٥

دغه شپه ده تر وخته د ختلو د سبا پورې (د سلامتیا، فضیلت، برکت، کرامت).

تفسیر: یعنې له ماښامه تر سحر پورې په ټوله شپه کې همدا سلسله جاري ده، نو ځکه دا شپه له سره تر پایه پورې مبارکه او بختوره ده.

تنبیه: له قرآن مجید څخه راڅرګندیږي (راښکاره کیږي) چې هغه شپه په رمضان شریف کې ده، ﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيٓ أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ﴾ او حدیث راښکاروي چې دا شپه د رمضان په وروستني عشره کې ده، په تېره بیا د دې عشرې په طاقو شپو کې د قدر شپې لټول په کار دي، بیا د طاق په شپو کې د اویشتم (۲۷) په شپې باندې زیات ګمان کاوه شي والله أعلم، ولې زیاتو عالمانو داسې تصریح کړې ده چې د قدر شپه د تل لپاره په یوه عشره او په یوه نېټه کې نشي ټاکلی، امکان لري چې په یو رمضان کې یوه شپه او په بل رمضان کې بله کوه شپه وي.

تمّت سورة القدر بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ البَيِّنَةِ

«د (البينة) سورت مدني دی (٨) آيته يوه رکوع لري، په تلاوت کې (٩٨) په نزول کې (١٠٠) سورت دی، وروسته د (الطلاق) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ مُنفَكِّينَ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ ﴿١﴾

نه وو هغه کسان چې کافران شوي دي له اهل د کتابو او له مشرکانو جلا کېدونکي له خپل دين نه تر هغه پورې چې راغی دوی ته حجّت روښانه.

تفسير: يعنې کافران د اهل کتابو او مشرکينو د خپل دين پرېښودونکي نه وو تر دې چې ښکاره او روښانه دلائل ورته راغلل، چې هغه د الله تعالی رسول دی، چې د دين احکام يې ورته ښودل، لکه چې وروسته يې وضاحت فرمايي:

رَسُولٌ مِّنَ اللَّهِ يَتْلُو صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ﴿٢﴾

چې رسول دی له طرفه د الله لولي دغه (رسول الله پر دوی) صحيفې پاکې کړی شوې (له باطله).

تفسير: د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم له بعثت څخه وړاندې د ټولو اديانو تابعين خراب او هر يو پخپلو غلطيو باندې مغرور وو، او په دې وخت کې دا پکار وو چې کوم حکيم، ولي، لوی عادل باچا يا کوم لوی سړی دوی وپوهوي، او په سمه لاره يې راولي، او دا کار ممکن نه وو، تر دې چې داسې يو عظيم القدر پيغمبر رانشي چې له هغه سره د پاک الله مقدّس کتاب او لوی مدد وي، چې د څو کلونو په منځ کې ټول ملک د اسلام په نور ډک کړي، او پخپل زبردست تعليم او لوی همّت او عزيمت سره د ګردې دنيا مخ د وحدانيت او حقّانيت په لوري وګرځوي، لکه چې هغه د الله تعالی رسول او استاځی د پاک الله د کتاب په لوستلو راغی چې په پاکو پانو کې يې ليکلی شوی دی.

فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ﴿٣﴾

په هغوی کې ليکلی شوي دي سم احکام (مضبوط کتابونه چې په کې نشته هيڅ خطايي).

تفسير: د قرآنکريم هر سورت ګواکې يو مستقل کتاب دی، يا دا مطلب چې هغه عُمده کتابونه چې پخوا له دې نه راغلي دي، د هغوی ضروري مطالب په دې کتاب کې شته، يا به له ﴿كُتُبٌ قَيِّمَةٌ﴾ څخه مراد نور علوم او مضامين وي، يعنې د هغو علومو مضامين پوره دُرست صحيح او ډېر مضبوط او معتدل دي.

وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِن بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ ﴿٤﴾

او نه وو سره مختلف شوي هغه کسان چې ورکړی شوی وو دوی ته کتاب مګر وروسته له هغه چې راغی دوی ته حجّت روښانه (چې محمد دی يا قرآن).

تفسير: يعني په دې رسول او په دې کتاب کې هيڅ ځای د شک او شبهې نشته، خو سره له هغه اهل د کتاب عمدًا عناد، ضد او مخالفت ورسره کوي نه د شک او شبهې له پلوه، دوی دوه ډلې شوي دي، يو هغه چې پخپل ضد او انکار کې ټينګ ولاړ دي، او بل هغه چې د حق او انصاف له لوري يې په اسلام باندې يقين او ايمان راوړی دی، ښه خو به دا وه چې په هغه پيغمبر آخر الزمان باندې چې دوی د هغو په انتظار کې وو؛ ځکه سره ايمان راوړی وو، او خپل ځکه اختلافات او شخړې به يې له منځه ايستلې، او ځکه به سره په يوه لاره کې رهي کېدل، مګر هغوی د خپلو عنادو او بدبختيو په سبب د وحدت او اجتماع په ځای په مخالفت او شقاق او نفاق کې سره اخته شول، کله چې اهل د کتاب داسې دي؛ د ناپوهانو مشرکانو احوال به څه وي؟.

وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ

حال دا چې امر حکم نه وو ورکړی شوی دوی ته په تورات او انجيل کې مګر ورکړی شوی وو چې عبادت وکړي دوی د الله په داسې حال کې چې خالص کوونکي وي الله لره دين له شرکه او نفاقه په داسې حال کې چې راځرځيدونکي وي له باطله حق ته.

تفسير: يعني له هر راز باطلو او دروغو څخه جلا شوي خالص د واحد الله تعالى بندګي وکړي !، او د حنيف ابراهيم عليه السلام په شان له هر چا او هرې خوا څخه علاقه شکولي د همغه يوه مالک الملک بندګان شي !، او د تشريع او د تکوين هيڅ يوه شُعبه او څانګه او نور شيان مستقل او خپلواک (اختيارمند) ونه ګڼي.

وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ ۝٥

او (بل دوی مأمور دي په دې چې) قائموي سم اداء کوي (سره له ټولو حقوقو) لمونځ، او ورکوي زکات، او دا (مأمور به شيان) دين دی محکم (مستقيم چې هيڅ کوږوالی په کې نشته).

تفسير: يعني دا شيان په هر دين کې غوره او منلي شوي دي، چې د هغو شيانو تفصيل همدغه پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم هم راکوي، بيا نو الله تعالى ته دغه خبره ښه معلومه ده چې له داسې صافې ښوونې او تعليم څخه ولې دوی ګرځي؟ او ترې وحشت کوي؟.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ

بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي له اهل د کتابو او مشرکان؛ وي به په اور د دوزخ کې (په قيامت کې) چې تل به وي دوی په هغه (جهنّم) کې.

تفسير: يعني د پوهې او د علم دعوی کوونکي که اهل الکتاب وي يا جاهل مشرکان کله چې د حقانيت او وحدت څخه مخ واړوي او انکار ترې وکړي؛ د هغو ګردو پای او انجام همغه دوزخ دی، چې هيڅ کله به له هغه نه خلاصيږي.

أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ شَرُّ ٱلۡبَرِيَّةِ ۝٦

دغه کسان هم دوی دي ډېر بد د خلقو.

تفسير: يعني له حيواناتو څخه ډېر خوار ذليل او خراب دي، لکه چې د «فرقان» په سورت کې داسې يو آيت لولو: ﴿إِنۡ هُمۡ إِلَّا كَٱلۡأَنۡعَٰمِ بَلۡ هُمۡ أَضَلُّ سَبِيلًا﴾

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ۝٧

بېشكه هغه كسان چې ايمان يې راوړی دی، او كړي يې دي ښه (عملونه په دنيا كې)؛ دغه كسان همدوی دي ډېر ښه د خلقو.

تفسير: يعنې هغه كسان چې په ګردو رسولانو او كتابو باندې يقين كوي، او په ښو كارونو كې لګيا دي؛ نو دوی ښه خلق دي.

جَزَاؤُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ

جزاء عوض د دوی په نزد د رب د دوی جنّتونه د ابدي هستوګنې دي، چې بهيږي له لاندې (د مانيو او ونو) د هغو (د اوبو د شودو د شاتو او د پاكو شرابو) ويالې، تل به وي دوی په هغو (جنّتونو) كې همېشه (تر ابده)، راضي به وي الله له دغو (مؤمنانو څخه په طاعت سره).

تفسير: يعنې د جنّت د باغونو او ويالو څخه برسېره د مولى رضا هم د دوی په برخه كيږي، چې د خوښۍ اصلي روح همدا دی.

وَرَضُوا عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ۝٨

او راضي به وي دوی له هغه (الله څخه په ثواب)، دا (درجه) هغه چا لره ده چې ويريدلی دی له ربه خپله.

تفسير: يعنې دا لوړ مقام هر چا ته په لاس نه ورځي، او دا يوائې د هغو بندګانو برخه ده چې د خپل پروردګار له عذابه ويريږي، او هغې شيانو ته هيڅ نه ورنژدې كيږي چې په هغو كې د الله تعالى د عصيان او نافرمانۍ تصوّر كېدی شي.

تمّت سورة البينة بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ الزِّلْزَالِ

«د (الزّلزال) سورت مدني دی، (۸) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۹۹) په نزول کې (۹۳) سورت دی، وروسته د «النساء» له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ①

کله چې وخوځوله شي ځمکه په خوځېدلو سختو خپلو سره.

تفسیر: یعنې الله تعالی به ګرده ځمکه په سختو او خورا ویروونکیو زلزلو او رېږدېدلو سره وخوځوي، چې د هغې له اغېزې او اثر څخه به هیڅ مانۍ او عمارت او هیڅ یو غر یا ونه او نور شیان پر ځمکه باندې روغ نه پاتې کیږي، او ګرد هسک (اوچت) او ټیټ به سره برابریږي، تر څو د حشر میدان صاف او پاک او یو برابر وګرځي، او دا ګردې پېښې به په قیامت د دویمې نفخې د پو کولو په وخت کې پیښیږي.

وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ②

او د باندې راوباسي ځمکه درانه شیان له خپله منځه.

تفسیر: یعنې په دې وخت کې ځمکه هر هغه شی چې د دې په منځ کې وي لکه مړي، سره او سپین زر، لاجور، پیروزه، غمي او نور ګرد د باندې غورځوي، خو د دې مالونو او قیمت دارو شیانو اخیستونکي به څوک نه وي، ګرد خلق به ګوري چې په دغه ورځ کې هغه ګران شیان چې تل به په هغو باندې جنګونه کېدل؛ څومره بېقدره او بېکاره لویدلي دي.

وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا ③

او وبه وایي انسان چې: څه شوي دي دغه (ځمکې) لره (چې د باندې راوباسي مدفون خپل).

تفسیر: یعنې بني آدمان وروسته د ژوندي کېدلو او زلزلې د آثارو له لیدلو څخه یا د هغو ارواحو د زلزلې په ترڅ کې حیران پاتې شوي په حیرت سره به وایي: «پر دې ځمکې باندې څه وشو؟ چې په دومره زور سره خوځیږي؟ او هر شی له خپلې ځېلې څخه د باندې غورځوي؟».

يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ④ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ⑤

په دغې ورځې کې وبه وایي بیانوي به ځمکه خبرې خپلې (خلقو ته که د خیر وي که د شر). په سبب د دې چې رب ستا وحي امر حکم کړی دی دې ته (په ویلو بیانولو سره).

تفسیر: یعنې بني آدم چې څه ښه او بد کارونه د هغې ځمکې په سر باندې کړي وو؛ هغه ګرد (ټول) به ښکاره وي، لکه چې وایي به: هغه سړي په ما باندې لمونځ کړی وو، هغه غلا کړې وه، هغه ناحق وینه توی کړې وه، او داسې نورې خبرې.

يَوْمَئِذٍ يَّصْدُرُ النَّاسُ اَشْتَاتًا ۙ

په دغې ورځې کې به وګرځي خلک ټولي ټولي (له موقف یا له قبورو نه په مختلفو اشکالو سره).

تفسیر: یعنې په هغې ورځې کې به خلق له خپلو قبرونو څخه راوتلي د محشر په ډګر کې په راز راز ډلې جوړې کړې حاضریږي، یوه ډله به د شرابیانو وي، بله ډله به د زناکارانو وي، همداسې د ظالمانو او غلو، علی هذا القیاس د نورو، یا دا مطلب چې خلق له حساب څخه خلاصیږي، او د بېرته ګرځېدلو په وخت کې څه ډلې به یې جنّتیانې او څه به دوزخیانې وي، چې هره یوه به پخپل لوري رهي کیږي.

لِّيُرَوْا اَعْمَالَهُمْ ۝

لپاره د دې چې وښودله شي هغوی ته (جزاء د) عملونو د دوی.

تفسیر: یعنې د حشر په میدان کې به د هغوی عملونه وروښولی شي، تر څو بدانو ته یو راز رسوایي او نېکانو ته یو راز سرفرازي حاصله شي، ممکن دي چې د عملونو له وربښوولو څخه د ثمراتو او نتائجو وربښوول مراد وي.

فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ۝ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ۝

پس هغه څوک چې عمل کوي په اندازه د یوې ذرې د خیر نیکی؛ نو وبه وینې (جزاء د هغه). او هر هغه څوک چې عمل کوي په اندازه د یوې ذرې د شر بدی؛ نو وبه وینې (سزا د هغه).

تفسیر: یعنې هر یوه ته د هغه د عمل ذره ذره ښه وي که بد؛ د هغه په مخ کې ایښوول کیږي، او حق تعالی به هر هغه معامله چې د هر عمل په نسبت اجراء کوي، هغه به هم د هغوی له سترګو څخه تېروي.

تمّت سورة الزلزال بفضل الله تعالی ومنّه وکرمه.

سُورَةُ العَادِيَاتِ

«د (العاديات) سورت مکّي دی، (۱۱) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۱۰۰) په نزول کې (۱۴) سورت دی، وروسته د (العصر) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا ۝١ فَالْمُورِيٰتِ قَدْحًا ۝٢

قسم دی په اسونو ځغلیدونکیو چې اواز ایستونکي دي له سینو څخه اواز پورته کول له ځپلو.
پس قسم دی په اسونو ایستونکیو د اور او رایستل په وهلو د سمانو تیږو (ګټو) لره.

تفسیر: یعنې په هغې تیږو یا تیږې لرونکې ځمکې باندې چې خپلې سوی (سمان او نوکان) وهي، او اور پورته کوي.

فَالْمُغِيرٰتِ صُبْحًا ۝٣

پس قسم دی په حمله کوونکیو باندې په وخت د صبا کې.

تفسیر: په عربو کې عادت وو چې په صباوون کې به یې په لوټولو باندې لاس پورې کاوه، تر څو د دوی د شپې له ورتګه دښمن خبر نشي، او سحر ناڅاپه داړه واچوي، او دا به یې خپل ځلمیتوب او مېړانه ګڼله چې په شپې کې په چا ور ونه لویږي.

فَاَثَرْنَ بِهٖ نَقْعًا ۝٤

پس پورته کوي دغه (اسونه) په سمانو خپلو سره (په وخت د ځغلېدو کې) ګرد (په شاوخوا د دښمن).

تفسیر: یعنې په داسې قوّت او ګړندیتوب او چالاکی سره ځغلېدونکي اسونه چې د ګهیځ په وخت کې کله چې د شپې د سړو او شبنم د رطوبت لامله ټولې دوړې او غبار ناست وي، خو بیا هم د دې اسونو له سوو څخه ګرد او دوړې پورته شي.

فَوَسَطْنَ بِهٖ جَمْعًا ۝٥

پس ننوځي دغه (اسونه) هغه وخت په منځ د ټولي (د دښمنانو د دین کې).

تفسیر: یعنې په دې وخت کې بې له وېرې او خطر د دښمن په فوج کې ننوځي.

او ځواب د دغو پاس قسمونو دا دی:

اِنَّ الْاِنْسَانَ لِرَبِّهٖ لَكَنُوْدٌ ۝٦

چې بېشکه (کافر) انسان له ربه خپله خامخا منکر ناشکره (د نعمتونو) دی.

تفسير: يعنې انسان د الله تعالى د نعمتونو شكر نه وباسي، او د الله تعالى له خوا د ورکړو نعمتونو نه انکار کوي، ځني سلفو ويلي دي چې: «کنود» هغه دى چې مصيبتونه شماري، او د الله تعالى نعمتونه هېروي.

وَإِنَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ﴿٧﴾

او بېشكه دا (انسان) پخپلې دغې ناشكرۍ خامخا شاهد كتونكى ګواه دى (يا هغه انسان هغه كار پخپل مخكښې ګوري).

تفسير: ډېرو مفسّرينو د دې جملې مطلب داسې اخيستى دى: انسان پخپلې ناشكرۍ باندې د حال په ژبه ګواه دى، دى دې لږ شانې د خپل زړه په غږ باندې هم غوږ کېږدي !او وادې وري ! او متوجه دې شي ! چې زړه يې ورته څه وايي؟ دا وايي چې: آيا سره د دومره لورينې او بښګلوى (بخښش) ته ناشكر يې، ځينې أسلاف د ﴿وَإِنَّهُ﴾ ضمير د رب په لوري اړوي، يعنې د ده رب د هغه ناشكري او كفران ته ګوري.

وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ﴿٨﴾

او بېشكه دا (انسان) په مينه محبّت د مال کې خامخا زيات قوي ډېر سخت دى.

تفسير: يعنې حرص، طمع، بخل امساك او نورو رذائلو هغه ړوند ګرځولى دى، د دنيا د زرو او مال په مينه کې دومره ډوب شوى دى چې خپل حقيقي منعم يې هېر کړى دى، او نه پوهيږي چې وروسته له دې نه به يې څه حال کيږي؟.

أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ ﴿٩﴾ وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ ﴿١٠﴾

آيا پس نه پوهيږي (دا انسان) كله چې را پورته شي راووځي هغه چې په قبورو کې دي (مړي). او محقق راښكاره کړى شي هغه (عقائد او ارادې) چې په سينو د دوى کې دي.

تفسير: يعنې هغه وخت هم راتلونكى دى چې مړي به له خپلو هديرو ځني ژوندي ايستل کيږي، او هغه خبرې چې په زړونو کې پټې دي؛ ګردې څرګندېږي، نو هلته به كتل کيږي چې له دې مال څخه څه ګټې اخيستى شي؟ او دا نا لايق او كافر به څنګه ځانونه ژغوري، كه دا بې حيا په دې خبره باندې پوهېدى؛ نو هيڅ كله به د مال په مينه کې دومره نه ډوبېدل، او داسې حركتونه به يې نه كول.

إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌ ﴿١١﴾

بېشكه رب د دوى په دوى باندې په دغې ورځې کې خامخا ښه پوه خبردار دى (نو موافقه جزاء به پرې وركړي).

تفسير: يعنې كه څه هم د الله علم هر وخت د بندګانو پر پټه او ښكاره باندې محيط دى، خو پرله پسې د ده علم او پوهه پر بندګانو ظاهريږي، او هيڅوا ته ځاى د دې خبرې نه پاتې کيږي چې له هغې څخه انكار وكړي.

تمّت سورة العاديات بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ القَارِعَةِ

«د (القارعة) سورت مکي دی، (۱۱) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۱۰۱) په نزول کې (۳۰) سورت دی، وروسته د (قریش) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

اَلْقَارِعَةُ ﴿۱﴾ مَا الْقَارِعَةُ ﴿۲﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْقَارِعَةُ ﴿۳﴾

(هغه) ټکوونکې (د زړونو، ورځ د قیامت). څه ده هغه ټکوونکې (د زړونو؟، قیامت). او څه شي پوه کړی یې ته چې څه ده هغه ټکوونکې (د زړونو، قیامت).

تفسیر: له (القارعة) څخه مراد قیامت دی، چې زړونه به له وېرې او فزع څخه سخت ټکانونه په کې خوري، او غوږونو ته د ډېرو سختو غږونو له اورېدلو څخه ربړ پیښېږي، مطلب دا دی چې د قیامت د حادثې د دې ویروونکې منظرې او نندارې څه بیان وکړ شي، یواځې د هغو د ځینو آثارو او نښو څه خبرې لاندې ویلی کیږي چې له هغو څخه د هغې د شدّت او د سختۍ اندازه لګولی شئ.

يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ﴿۴﴾

(ټکوي به زړونه) په هغه ورځ کې چې ګرځي خلق لکه واړه پتنګان خواره خواره کړی شوي (یو په بل ختونکي).

تفسیر: یعنې هر یو به په یوه لوري په بې تابۍ او وارخطایۍ سره منډې وهي او ځغلي، ګواکې دا تشبیه له وړو پتنګانو سره د ضعف، کثرت، حرکت، بې انتظامۍ او بې تابۍ له پلوه ورکړی شوې ده.

وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ ﴿۵﴾

او وبه ګرځي غرونه (له هیبته په دغې ورځې کې) لکه وړۍ رنګینې شیندلی شوې (د ندّاف په لیندې).

تفسیر: یعنې لکه چې ندّاف او ډاندس پخپل ډینډې او لیندې سره پنبه یا وړۍ وهي او پرسوي یې، او له هغو څخه د حجم په لحاظ یو لوی شی جوړوي، او بیا په یو یو کولو او لړ ښورولو سره هغه الوځي، او یوه خوا بل خوا یې رغړوي، همداسې به د قیامت په ورځ کې غرونه هم الوځي، او سره متفرق کیږي به، او په رنګ ورکړیو شویو وړیو سره به یې ځکه تشبیه ورکړی شوي وي؛ چې هغه ډېرې کمزورې او سپکې دي.

فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ ﴿۶﴾ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿۷﴾

پس هر چې هغه څوک چې دروند شي (په دغې ورځې کې) وزن (د عملونو، یا اعمال) د ده؛ نو هغه به وي په ښه ژوندون چې راضي به وي (په جنّت کې).

تفسير: يعنې د هر چا عمل چې دروند وي؛ هغه به په هغې ورځې کې په زړه پورې خوښي او هوسايي او آرامی کې وي، که کوم عمل په لیدلو کې ډېر لوی عمل ښکاري؛ خو په منځ کې يې د ايمان اغېزه (اثر)، د اسلام اثر، د اخلاص روح نه وي؛ نو هغه عمل د الله تعالى په دربار کې څه وزن او دروندوالى نه لري، لکه چې د (کهف) د سورت په (١٢) رکوع کې (١٠٥) آيت ځمونږ دغه تفسير کې داسې راغلي دي: ﴿فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا﴾

وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ ۝٨ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ ۝٩ وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ ۝١٠ نَارٌ حَامِيَةٌ ۝١١

او هر چې هغه څوک چې سپک شي وزن (د عملونو يا اعمال) د ده؛ نو ځای د اوسېدلو د ده به هاويه وي. او څه شي پوه کړې ته چه څه ده دغه (هاويه). اور دی خورا تود (چې منکران په کې پرمخي غورځولی کيږي).

تفسير: يعنې هغه عذاب چې په دغې طبقې کې شته د ځينو سړيو په فکر کې نشي راتلی، نو بس دومره وپوهېږئ چې يو اور دی ډېر تود چې سره خوټيږي، او داسې سوځوونکی دی چې د هغه په مقابل کې بل اور ته تود نه وايه شي، الله مو دې له دې اوره او له نورو ربړو څخه پخپل فضل او مهربانۍ سره وساتي !.

تمّت سورة القارعة بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ التَّكَاثُرِ

«د (التّكاثر) سورت مكي دی، (۸) آيته يوه رکوع لري، په تلاوت کې (۱۰۲) په نزول کې (۱۶) سورت دی، وروسته د (الکوثر) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ ۝١ حَتَّىٰ زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ۝٢

مشغول کړي يئ تاسې (له عبادته) فخر کولو (يو له بله په ډېروالي د مال، اولاد او قام). تر هغه پورې چې ورشئ هديرو ته (مړه شئ، خښ شئ).

تفسير: يعنې د مال او د اولاد د کثرت او د دنيا د مال او د شتو حرص سړی په غفلت کې اچوي، نه د الله تعالی د لورينې فکر ورته پرېږدي چې راشي، نه د آخرت په خيال کې لويږي، پس شپه او ورځ په همدې فکر کې لګيدلی وي، په هر ډول چې کيږي ښايي ځما مال او شته را زيات شي، او کور کهول مې له ګردو کورنيو او کهولو څخه ښه او لوړ وي، لا دا د غفلت پرده له مخه يې نه وي لرې شوې چې مرګ ورته راورسيږي، کله چې په قبر کې کښنود شي؛ نو هلته ورښکاريږي چې په سخت غفلت او هېره کې لوېدلی وو، او هغه شيان چې د څه مودې له پلوه د ده په سترګو کې ښه ښکارېده؛ وروسته له مرګه هغه ګرد هيڅ بلکه د ده د ځان نقصان ثابت شو.

كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ۝٣ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ۝٤

نه ده داسې وړ (لايق)، ژر ده چې پوه به شئ تاسې (پخپلې خطايې باندې). بيا بيخي داسې نه ده وړ (لايق)، ژر ده چې پوه به شئ تاسې (پخپلې خطايې باندې).

تفسير: يعنې وګورئ ! په څو څو ځلې په تأکيد تاسې ته ويل کيږي چې ستاسې دا خيال صحيح نه دی چې: «د مال او اولاد او نورو شتو ډېروالی په کار راتلونکی شی دی»، عنقريب تاسې به يې معلوم کړئ چې دا زائل او فاني څيزونه هيڅکله د فخر او مباهلت لايق نه وو، بيا وپوهېږئ چې آخرت داسې يو شی نه دی چې له هغه څخه انکار يا غفلت وکړی شي، په مخ کې به تاسې ته دا درښکاره شي چې اصلي ژوندون عيش او هوسايي په آخرت کې ده، او د دنيا ژوندون د هغې په مقابل کې پرته له يوه خوب او خيال ځنې بل شی نه دی.

كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ ۝٥

نه ده داسې، که تاسې پوهيدلئ (په خرابۍ د عاقبت د تکاثر او تفاخر) په علم اليقين سره (نو داسې به مو نه کول).

تفسير: ستاسې دا خيال هر ګز صحيح نه دی، که تاسې په يقيني ډول او د صحيحو دلائلو په وسيله په دې خبرې پوهېدئ چې د آخرت په مقابل کې د دنيا شيان هيڅ دي؛ نو هيڅکله به مو غفلت نه کاوه.

لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ ۝٦ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ ۝٧

قسم دی چې خامخا وبه وینئ تاسې هرومرو دوزخ. بیا به خامخا ووینئ تاسې هرومرو هغه (دوزخ) په سترګو د یقین سره.

تفسیر: یعنې د غفلت او د انکار نتیجه دوزخ دی، او تاسې ضرور د هغه لیدونکي یئ، ړومبی د هغه څه اثر به «برزخ» کې په نظر درشي، بیا به یې په آخرت کې په پوره ډول ووینئ، او عین الیقین به مو حاصلیږي.

ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ ۝٨

بیا به خامخا پوښتنې وشي له تاسې څخه هرومرو په دغې ورځې کې له نعمتونو هوسینو نه (چې درکړي یې وو تاسې ته په دنیا کې).

تفسیر: یعنې په هغه وخت کې به وپوښتلی شئ چې: «اوس راوښیئ د دنیا د نعمتونو او د عیش او د هوسایی حقیقت څرنګه وو؟ یا هلته پوښتل کیږي: هغه ظاهري، باطني، آفاقي، انفسي، جسماني، روحاني نعمتونه چې ما تاسې ته په دنیا کې عطاء کړي وو؛ تاسې د هغه شکر او حق په څه ډول اداء کړی دی؟ او د خپل حقیقي منعم په خوښولو کې مو تر کوم ځای پورې سعي او زیار ایستلی دی».

تمّت سورة التّكاثر بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ العَصْرِ

«د (العصر) سورت مکّي دی، (۳) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۱۰۳) په نزول کې (۱۳) سورت دی، وروسته د (الانشراح) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَالْعَصْرِ ﴿١﴾ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ﴿٢﴾

قسم دی په عصر. چې بېشکه انسان خامخا په زیان کې دی (په صرف کولو د عمر سره په فاني مطالبو کې).

تفسیر: عصر زمانې ته وایي، یعنې قسم په زمانې باندې چې د انسان عمر هم په کې داخل دی، چې دا عمر د سعاداتو او کمالاتو د ګټلو لپاره یوه لویه پنګه ده، او په کې عجائب او غرائب دي په اقسامو سره، قسم دی د مازدیګر په وخت باندې چې د دنیوي کارونو او وظیفو له پلوه یو ځان ته اهمیت او مشغولیت لري، او د لمانځه اداء یې سخته ده، ځکه چې خلق مشغول وي په دنیوي کارونو خپلو کې، او د دیانت له سببه د خورا لوی فضیلت وخت دی، تر دې چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «د هر چا نه چې د (عصر) لمونځ فوت شي؛ لکه چې د هغه ګرد کور او د ژوندون شیان لوټ شوي وي»، یا قسم دی ځما په پاکه زمانه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندې چې په هغې کې د عظمی رسالت او کبری خلافت رڼا او نور ډېر ښه ځلیږي، او بهتر او غوره ده له نورو زمانو څخه، او د «والعصر» د قسم ځواب دغه دی چې:

﴿إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾ «بېشکه انسان خامخا په زیان کې دی»، له دې څخه به زیات زیان څه وي چې د واورې خرڅوونکي غوندې د هغه د تجارت رأس المال چې د هغه عزیز عمر دی؛ شېبه په شېبه (لحظه په لحظه) لږیږي، که دی په دې ژر ورتګ کې هیڅ یو داسې کار ونه کړي چې هغه یواځې د دې تللي عمر پنګه (سرمایه) وبللی شي، یا یې په درد وخوري، بلکه یو ابدي او غیر فاني متاع او د تل لپاره د کار شی وګرځي، نو زیان او خساره یې خو زیاتیږي.

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴿٣﴾

مګر (خو زیانکاران نه دي) هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی، او کړي یې دي ښه (عملونه)، او وصیت یې کړی وي یو بل ته په حقه سره چې ایمان دی، او وصیت یې کړی وي یو بل ته په صبر (په طاعت او مصیبت او له معصیته).

تفسیر: یعنې انسان ته د زیان څخه د ژغورلو لپاره د څلورو شیانو ضرورت دی:

(۱): په الله تعالی او په رسول الله صلی الله علیه وسلم او ټولو ایمانیاتو باندې ایمان راوړل، او د هغه په هدایاتو او وعدو باندې اخروي وي یا دنیوي؛ پوره یقین لرل.

(۲): د دې یقین اثر او اغېزه نه ښایي چې یواځې په قلب او دماغ پورې محدوده وي، بلکه ښایي چې په جوارحو کې هم څرګنده شي، او د هغه چارې او اعمال او ژوندون د ده د زړه هنداره وي.

(۳): دی پخپلې انفرادي اصلاح او فلاح باندې قناعت ونه کړي، بلکه د خپل قوم او ملک ګټې او اجتماعي مفاد هم ښايي د ده تر کتنې او نظر لاندې وي !، هر کله چې دوه مسلمانان سره ووينې؛ ښايي يو له بله سره په ورين تندي خبرې اترې وکړي، او په قول او فعل او هره معامله کې دې پرته له ديانت او صفايي څخه بل کار نه کوي !، اوتل دې يو بل ته د صداقت، امانت تأکيد وينا وکړي !.

(۴): هر يوه له ښايي چې تل بل ته دا وصيت او نصيحت کوي چې د حق په معامله او د شخصي او قومي اصلاح په لاره کې چې هر څومره سختي او زيار او ربړونه ورپېښ شي، يا له طبعې مخالفې چارې په مخ ورته راشي؛ دا ګردې دې په پوره صبر او استقامت سره تحمّل کړي، او هيڅکله دې پل د نېکۍ له لارې څخه کوږ نه ږدي !، هغه خوش قسمت انسانان چې د دې څلورو اوصافو جامع او لرونکي وي، او دوی سره د خپل کمال د نورو په تکميل کې هم زيار کوي؛ نو د هغوی نوم د دنيا په صفحاتو کې تل ژوندی پاتې کيږي.

تمت سورة العصر بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ الهُمَزَةِ

«د (الهمزة) سورت مکي دی، (۹) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۱۰۴) په نزول کې (۳۲) سورت دی، وروسته له (القيامة) د سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ﴿١﴾

افسوس هلاکت، یا کنده د دوزخ، یا خرابي ده هر طعن لګوونکي عیب ګر لره.

تفسیر: یعنې له خپل ځان څخه نه خبریږي، او نور حقیر ګڼي طعنې ورکوي، او د هغوی په واقعي یا غیر واقعي عیبونو پسې لویدلي وي او لټوي یې.

الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ ﴿٢﴾

هغه (طعن لګونکی عیبګر) چې جمع کړی یې دی مال، او وار وار یې شمېرلی او ذخیره کړی یې دی.

تفسیر: یعنې طعنې ورکول او عیب لټول د تکبّر منشأ ده، او د تکبّر سبب مال دی، چې د حرص لامله یې له هرې خوا ځان ته راټولوي، او بخیلان د حرص لامله هرې خوا ته لاس او پښې اچوي، او د بخل له سببه خپلې ګټې شمېرلې ساتي، او یو پول او پیسه ترې نه خرڅ کوي، زیاتره بخیل مالداران داسې دي چې هغوی خپلې نغدې څو څلې شمیري، او حسابونه یې جوړوي، او له دې شمېرلو څخه هر ځلې ببل ببل خوند او مزه اخلي.

يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ ﴿٣﴾

ګمان کوي چې بېشکه مال د ده به تل ژوندی لري دی.

تفسیر: یعنې له دې چارو څخه دا ښکاري چې لکه دا مال هیڅ چېرې نه ورځنې جلا کیږي، بلکه تل به دی له ارضي او سماوي آفتونو څخه ساتي؟.

كَلَّا لَيُنۢبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ ﴿٤﴾

نه ده داسې (بلکه مړ به شي، او خلاص به یې نه کړي دا مال له عذابه)، قسم دی چې خامخا وبه غورځولی شي هرومرو (دا جمع کوونکی) په هغه شي کې چې ماتوونکی سوځوونکی دی د هر شي.

تفسیر: یعنې دا خیال بالکل چټې دی، مال خو تر هدیرې پورې هم له چا سره نه ځي، نو وروسته له هغه به څه ترې واخیست شي، ګرد مال او دولت به همداسې پاتې وي، او دا بدبخت به پورته کړي، او په دوزخ کې به یې وغورځوي.

حطمة: هغه سخت ماتوونکي اور ته وايه کيږي چې هر شی سمدلاسه بې له لوګي او اوږدو لمبو څخه وسوځوي.

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحُطَمَةُ ۝٥ نَارُ ٱللَّهِ ٱلۡمُوقَدَةُ ۝٦ ٱلَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى ٱلۡأَفۡـِٔدَةِ ۝٧

او څه شي پوه کړی يې ته، څه شی دی ماتوونکی سوځوونکی د هر شي. اور د الله دی بل کړی شوی. هغه (اور) چې خپلې پر زړونو باندې (نو سوځوي يې).

تفسير: يعنې ښه وپوهېږئ چې دا اور د بندګانو نه دی، بلکه د الله تعالی بل کړی شوی اور دی، د هغه سوځېدل چې په بدن باندې لګيږي؛ سمدلاسه زړه ته رسيږي، بلکه يو بل ډول سوځېدل به داسې وي چې له زړه څخه شروع شوي نور بدن ته سرايت کوي.

إِنَّهَا عَلَيۡهِم مُّؤۡصَدَةٌ ۝٨

بېشکه دا اور به په دوی باندې بند کړی شوی وي.

تفسير: يعنې کافران په دوزخ کې غورځول کيږي، بيا د دوزخ ورونه پرې تړل کيږي، او هيڅ د وتلو لار به نه وي، تل به په هغه کې پاتې او سوځيږي.

فِي عَمَدٖ مُّمَدَّدَةِۭ ۝٩

په ستنو راښکلیو شويو اوږدو سره.

تفسير: يعنې د اور لمبې د اوږدو اوږدو ستنو په ډول پورته کيږي، يا دا چې دوزخيان په اوږدو ستنو کې سخت تړل کيږي، چې د سوځېدلو په وخت کې هيڅ ونشي خوځېدلی، چې د دې خوا او هغې خوا له خوځېدلو د عذاب د څه سپکتيا توهم کېدی شي، او ځينې وايي: د دوزخ خوله په اوږدو اوږدو ستنو سره بنديږي، چې له يوې خوا څخه بلې خوا ته راښکلې شوي وي، والله أعلم.

تمّت سورة الهمزة بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ الفِيلِ

«د (الفيل) سورت مكي دی، (۵) آيته يوه رکوع لري، په تلاوت کې (۱۰۵) په نزول کې (۱۹) سورت دی، وروسته د «الکافرون» له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ ۝١

آيا نه وو ليدلی تا، نه يې خبر؟ چې څرنګه کار کړی وو رب ستا له خاوندانو د فيل سره.

تفسير: يعنې د فيل د خاوندانو سره هغه معامله چې ستاسې پروردګار وکړه؛ هغه به ضرور تاسې ته معلومه وي، ځکه چې دا واقعه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم له با سعادت ولادت څخه څو ورځې پخوا شوې وه، او د ډېر شهرت له سببه چې د هر لوی او کوچني په ژبه يادېده، او د دې قرب عهد او د تواتر په بناء الله تعالى دا علم په رؤيت سره تعبير وفرمايه.

اَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ ۝٢

آيا نه يې وو ګرځولی (هغه) کيد مکر د دوی په ګمراهی زيانمنی بطلان کې.

تفسير: يعنې هغو کسانو غوښتل چې د الله تعالى کعبه ورانه او خپله مصنوعي کعبه ودانه کړي، نو دا ونه شوه کېدی، او الله تعالى د هغوی ګردې ترڅې بېکاره او ټول تدابير يې بې اثره وګرځول، او د کعبې شريفې د تباهی د فکر له سببه دوی پخپله تباه او بېکاره شول.

وَّاَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا اَبَابِيْلَ ۝٣ تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ ۝٤

او راويې لېږل په دوی باندې مرغان ټولګي ټولګي. چې وښتل يې هغوی په کاڼو سره چې له خټو په اور پخو شويو څخه جوړ شوي وو.

تفسير: د أصحاب فيل لنډه قصه دا ده: د حبشې د ټولواک (باچا) له خوا په يمن کې يو (ابرهه) نامې حاکم مقرر وو، هغه وليد چې د عربو ګرد خلق کعبې شريفې ته ځي، او هلته حجّونه کوي، نو ويې غوښتل چې د خلقو توجّه ځان ته ورکش کړي، نو دا تدبير يې له ځان سره وسنجاوه چې د خپل عيسوي دين په نامه يوه لويه کتبه (عبادتخانه) جوړه کړي، چې د هر راز تکلّفاتو او د راحت او هوسايي او ساعت تېرۍ اسباب په کې غونډ کړی شوي وي، او غوښت يې چې په دې ډول به خلق اصلي کعبه پرېږدي، او د دې مکلفې او مرصّعې عبادتخانې په لوري به راځي، او د مکې د حج بيروبار به مات شي، لکه چې د يمن په يو لوی ښار کې يې چې (صنعاء) نومېږي؛ مصنوعي کعبه جوړه او ډېر مال او شته يې پرې خرڅ کړي وو، خو سره له هغه هم خلق ورته متوجه نشول، کله چې عرب په تېره قريش له دې خبرې څخه خبر شول؛ سخت خپه او په قهر شول، ځينې په قهر شوي هلته اودس ماتي ته کښاستل، ځينې وايي چې: کوم عرب اور بل کړی وو، چې د هغه کوم بځرکی الوتلی په هغې مانۍ کې ولګېد، ابرهـه له دې پېښې څخه ډېر په قهر

شو، او غوټه يې کړه چې پر کعبې شريفې باندې سره له ډېرو فوجونو او يو نومیالي فيل چې (محمود) نومېده، يرغل وروړي او ورانه يې کړي، هغې عربي قبيلې چې په لاره کې يې له هغه سره مقاومت وکړ د هغوی له لاسه ماتې وکړه، او أصحاب الفيل په ډېر قوّت او سامانې سره مکې شريفې ته ورسېدل، د رسول أكرم صلى الله عليه وسلم نيکه «عبد المطلب» په دې وخت کې د قريشو سردار او د کعبې شريفې لوی متولّي وو، کله چې دوی له دې پېښې څخه خبر شول؛ ويې ويل: «خلقو ! تاسې د خپلو ځانونو ساتنه وکړئ !، د کعبې ساتنه به هغه څوک وکړي چې مالک يې دی»، کله چې ابرهه پخپل مخ کې هيڅ يو مانع ونه ليده؛ نو يقين يې راغی چې د کعبې ورانول اوس يو اسانه کار دی، ځکه چې ځما پر مخ کې هيڅ څوک مقابله کوونکي نه دي، کله چې مکې معظمې ته نژدې د «مُحسِّر» وادي ته ورسېد چې د يوې کندې نوم دی؛ نو د لوی سيند له لوري د شنو او ژېړو مرغانو کوچنۍ کوچنۍ ډلې ورښکاره شوې، چې د هغوی په منښو کې او منګلو کې وړوکې کنکرې وې، چې جوړې شوې وې له خټو څخه په پخولو سره لکه خښتې يا قدرتي وې لکه کوتکانې، دې عجيب او غريب مرغانو ټولی ټولی کنکرې پر لښکر وروليې، د الله په قدرت به دا د کنکرو ويشتل کټ مټ (هوبهو) لکه د توپکو پر هغوی باندې اثر او اغېزه کوله، او په هر چا چې لګېده له بلې خوا به يې وتله، او عجيب ډول بوسي ماده به يې پرېښوده، ډېر ډېر لښکر يې هلته مړه شول، هغه چې وتښتېدل په نورو ربړو (تکليفونو) سره اخته او په کې مړه شول، ځينې وايي: دا پېښه د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم له ولادت څخه پنځوس ورځې پخوا شوې ده، ځينې وايي: دا پېښه په هغې ورځې کې شوې ده چې محمد صلى الله عليه وسلم په کې تولّد شو، ګواکې دا يوه اسماني نښه د دوی د بختور راتګ ده، او يوه غيبي اشاره ده چې الله تعالى د خپل کور او د بندګانو په فوق العاده ډول سره هم ساتنه کوي، او د دې کور متولّي هم له نورو څخه سره د خپل مقدّس پيغمبر صلى الله عليه وسلم په نښه شان ساتي، او دښمنانو ته هسې موقع نه پرېږدي چې دوی کعبې شريفې يا د کعبې شريفې رښتينو خادمانو ته څه تکليف او ضرر ورپېښ کړي.

فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ ۝

نو ويې ګرځاوه دغه لښکر په شان د وښو خوړلیو شويو پايمال کړيو شويو.

تفسير: په شان د هغو وښو او پاڼو د فصل يا خوړلې شوې ګياه چې غوايي، غوا او نور حيوانات يې خوري او پاتې يې په اخور کې وي، يعنې داسې تيت او پرک او منتشر بد صورت مبتدل بېکاره او ټکر ټکر شول، لکه پاتې وانښه د حيواناتو.

تمّت سورة الفيل بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ قُرَيْشٍ

«د (قُريش) سورت مکي دی، (۴) آيته يوه رکوع لري، په تلاوت کې (۱۰۶) په نزول کې (۲۹) سورت دی، وروسته د «التين» له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

لِإِيلٰفِ قُرَيْشٍ ﴿۱﴾ إِيلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ ﴿۲﴾ فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ ﴿۳﴾ الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ ﴿۴﴾

له جهته د انس او الفت د قريشو يو له بل سره. له جهته د انس او الفت د دوی په سفر د ژمي کې او (په سفر د) اوړي کې. نو ښايي چې بندګي وکړي دوی رب د دې کوټې (کعبې) ته هغه (رب) چې طعام خواړه يې ورکړي دي دوی ته په لوږې کې، او امن يې ورکړی دی دوی ته له خوف وېرې څخه.

تفسير: يعنې په مکّې کې غله او نور خواړه نه پيدا کېده، نو ځکه د قريشو داسې عادت وو چې په هر کال کې به دوی دوه ځلې سفر کاوه، د ژمي په وخت کې د يمن په لوري چې تود دی، او په اوړي کې د شام په لوري چې يخ او زرغون ملک دی، د هر ځای خلقو به دوی د اهل حرم او د بيت الله د خادمانو په نامه سره پېژندل، او د دوی به يې ډېر عزّت او احترام او خدمت کاوه، او د هغوی ځان او مال ته به يې لاس نه غځوو، نو ځکه دوی به له دې تګ او راتګ څخه په زړه پورې ګټې اخيستلې، او بيا په امن، اطمينان او ډاډينه سره پخپلو کورونو کې کېناستل، خوړل او خورول به يې، د حرم په شاوخوا کې به د غلا، دارې، لوټ او تالا شورماشور وو، خو پخپله په حرم شريف کې به د هغه احترام په سبب قراره قراري وه، او د قريشو خلقو په ډېرې هوسايۍ او ارامۍ سره خپل ژوندون تېروه، نو د همدې انعام تذکره، يادونه دلته شوې ده، چې تاسو ته مې طعام او ډوډۍ درکړه، او امنيت، طمانيت، سکون او هوسايي مو دروبښله، او د أصحاب الفيل له يرغل او تعرّض څخه مو وساتلئ، نو تاسې ولې د دې کور د څښتن الله تعالی بندګي نه کوئ؟ او د هغه رسول ته ولې ربړونه پېښوئ، آيا دا ډېره بې انتهاء ناشکري او احسان هېرول نه دي؟ که په نورو خبرو نه پوهيږئ نو د دې ښکاره حقيقت په منلو کې چې پوهېدل يې ډېر اسان دي؛ ولې خپل ځانونه وړاندې وروسته کوئ؟.

تمت سورة قريش بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ الماعُونِ

«د (الماعون) سورت درې ړومبني آيات مکّي او نور يې مدني دي، (۷) آيتونه يوه رکوع لري، په تلاوت کې (۱۰۷) په نزول کې (۱۷) سورت دی، وروسته د «التکاثر» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

اَرَءَيْتَ الَّذِىْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ۝١

آيا وينې ته هغه څوک چې دروغ وايي په ورځې د جزاء باندې (يعنې دروغ يې ګڼي)

تفسير: يعنې دغه مکذّب کافر داسې وايي چې: له سره عدل او انصاف به نه کيږي، او د الله تعالى له لوري به د ښو او بدو بدل نه ورکاوه کيږي، ځينو د (دين) معنى «ملّت» اخيستى دى، يعنې د حق مذهب او اسلام ملّت دروغ بولي، ګواکې مذهب او ملّت د هغوى په نزد هيڅ يو شى نه دى.

فَذٰلِكَ الَّذِىْ يَدُعُّ الْيَتِيْمَ ۝٢

نو (که يې پېژنې؛ همدغه) همغه (څوک) دى چې رتې، شړي يتيم پلار مړي لره (په شړلو قبيحو سره).

تفسير: يعنې له يتيم او پلار مړي سره همدردي او خواخوږي چېرې؟ بلکه له هغوى سره په ډېره بېرحمى، غټ زړه توب، بد اخلاقى معامله کوي، او حق يې نه ورکوي، او اموال يې له خپل ځان سره په ناحقه ساتي.

وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ۝٣

نو نه کوي تېزول په طعام، خواړه ورکولو د مسکين باندې.

تفسير: يعنې نه دوى د غريبانو او محتاجانو خبر اخلي، او نه نورو ته ترغيب ورکوي.

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ۝٤ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۝٥

پس هلاکت افسوس، کنده د دوزخ، يا خرابي ده لپاره د لمونځ کوونکو. هغه کسان چې دوى له لمانځه خپله غافله بېخبره وي.

تفسير: يعنې نه پوهيږي چې لمونځ له چا سره مناجات دى؟ او د هغه مقصد څه دى؟ او د څومره اهتمام لايق او وړ دى؟ دا به څرنګه لمونځ وي چې کله يې نه کوي، او کله يې کوي، وخت او بې وخته پرې ودريږي، په دنيوي چارو او خبرو کې په لوى لاس وخت تنګوي، او بيا يې چې کوي هم؛ يو څو ټونګې وهي، او دېته هيڅ فکر نه کوي چې چاته مخامخ ولاړ يم؟ د «أحكم الحاكمين» په دربار کې په څه شان حاضري ورکوم؟ آيا الله تعالى يوائې ناسته ولاړه، سر په ځمکه لګول، کږېدل وينې، او (استغفر الله) ځمونږ زړونه نه وينې، آيا په دې کې د اخلاص او خشوع رنګ شته؟

په یاد یې ولرئ چې دا ګرد صورتونه په ﴿عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ﴾ کې درجه په درجه شامل دي، لکه چې ځینو اسلافو په دې تصریح کړې ده.

الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ ۝٦

هغه کسان دي چې دوی ریاکاري کوي (په عمل خپل کې، ځان ښوونه کوي خلقو ته).

تفسیر: یعنې یو لمونځ څه بلکه د هغوی نور عملونه هم له ریاکارۍ او نمایش څخه تش نه وي، ګواکې د دوی مقصد له خالق څخه سترګې اړول او د مخلوق خوښول دي.

وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ ۝٧

او منع کوي دوی مال د زکات یا اسباب د معاونت امداد یو له بله.

تفسیر: یعنې زکات او صدقات او نور میراث خو نه ورکوي، بلکه معمولي شیان لکه لوښي، رسۍ، تبر، یوم، لور، غلبیل، اوبه، مالګه، اور، تار، ستن او نور هم چا ته چې ترې ویې غواړي نه یې ورکوي، چې د هغو ورکول په ګرده دنیا کې یو عام رواج دی.

تمّت سورة الماعون بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ الكَوثَر

«د (الكوثر) سورت مكي دی، (۳) آيتونه يوه ركوع لري، په تلاوت كې (۱۰۸) او په نزول كې (۱۵) سورت دی، وروسته د (العاديات) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع كوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم كوونكی دی.

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ﴿١﴾

بېشكه مونږ دركړی مو دی تاته كوثر (ډېر خير يا وياله په جنّت كې).

تفسير: يعنې په تحقيق سره ما دركړی دی تا لره ای محمده كوثر چې په وزن د (فَوْعَل) دی، په معنی د كثرت، يعنې: دركړی مې دی تا لره خير كثير چې علم او نبوّت، قرآن او شفاعت دی، نو د دې لفظ لاندې ګرد ديني او دنيوي دولتونه او حسي او معنوي نعمتونه داخل دي، او له دې نعمتونو څخه يو لوی نعمت «حوض كوثر» هم دی، چې په دې نامه په مسلمانانو كې مشهور دی، او د هغه په اوبو باندې به د قيامت په ورځ خپل امّت اوبه كوي.

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴿٢﴾

نو لمونځ كوه لپاره د رب خپل او قرباني كوه !.

تفسير: يعنې د دومره لوی انعام او احسان شكر هم بنايي لوی وي، او بنايي چې پخپل روح او بدن او مال سره پوره د خپل رب په عبادت كې مشغول او لګيا وي، په بدني او روحاني عباداتو كې له ګردو څخه لوی عبادت لمونځ دی، او په مالي عباداتو كې قرباني يو ممتاز حيثيت لري.

إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴿٣﴾

بېشكه دښمن ستا همغه دی بې بنياده له هره خيره منقطع.

تفسير: ځينو كفّارو به د رسول أكرم صلى الله عليه وسلم په شان كې داسې ويل: دا سړی ځوی نه لري، نو تر څو چې ژوندی وي خلق به يې نوم يادوي، خو وروسته له مړګه به يې څوك نوم اخلي؟ داسې بې هلكه سړي ته په محاوراتو كې «ابتر» وايه كېده، «ابتر» په اصل كې لنډي «دم بريده» څاروي ته وايي، د هغه چا چې تر ده وروسته كوم نوم اخيستونكی پاتې نشي، ګواكې د هغه لكی هم پرې شوې ده، نو قرآنكريم دا راښيي: هغه چا ته چې الله تعالى خير كثير عطاء فرمايلی وي؛ تر أبد الآباد پورې د هغه نوم رونړ پاتې كيږي، او هغه ته «أبتر» ويل خورا ډېر حماقت او ناپوهي ده، په رښتيا سره هغه څوك چې داسې مقدّسې او مقبولې هستۍ سره بغض، عناد او عداوت ولري؛ هغه له خپل ځانه وروسته څه د خير ذكر او نېك اثر نه پرېږدي، نن چې ديارلس سوه اتيا كاله د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم له بعثت څخه تېر شوي دي، بيا هم ما شاء الله د هغه له روحاني اولاد څخه ګرده دنيا ډكه ده، او جسماني اولاده يې هم

د دوی د لونړو له خوا ډېره زیاته په هر ملک کې شته، د دوی د دین صالحه آثار په عالم کې ځلیږي، د دوی یادول په ښه نوم، محبت او عقیده سره د کروړونو انسانانو زړونوته خوښي ښیي، دوست او دښمن ټول د دوی د اصلاحي چارو ستاینه کوي، او مونږ مسلمانان یې د زړه له کومې حق او رښتیا بولو، پرته له دنیا څخه په آخرت کې بیا په هغه مقام محمود کې چې دوی به هلته ودریږي، او هغه عامه مقبولیت او متبوعیت چې دوی ته علی رؤوس الأشهاد په برخه کیږي؛ هم ځمونږ د افتخار ځای دی.

تمّت سورة الكوثر بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.



سُورَةُ الكَافِرُونَ

«د (الكافرون) سورت مكي دی، (۶) آيتونه يوه ركوع لري، په تلاوت کې (۱۰۹) په نزول کې (۱۸) سورت دی، وروسته د (الماعون) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ﴿١﴾

ووايه (ای محمده ! چې) ای کافرانو !.

تفسير: د قريشو څو تنو غټانو وويل: ای محمده ! راځه چې مونږ او تاسې روغه سره وکړو، تاسې تر يوه کال پورې ځمونږ د معبودانو عبادت وکړئ !، بيا په دويم کال کې مونږ ستا د معبود عبادت کوو، او داسې به هر يوه ټولګي ته د بل ټولګي له دين څخه څه برخه رسيږي، محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «زه له الله تعالى څخه له دې نه پناه غواړم، چې د يوې ثانيې له مخې هم له هغه سره بل څوک يا شی شريک وګڼم»، بيا هغوی وويل: «نه، نو تاسې ځمونږ د معبودانو مذمّت مه کوئ، نو مونږ به هم ستا د پيغمبرۍ تصديق او ستا د معبود ستاينه (صفت) کوو»، نو په دې باندې دا سورت نازل شو، چې محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم د کُفّارو په لويه جرګه کې ولوست، چې د هغه خُلاصه د مشرکينو له طور او طريقې څخه پوره بېزاري ښکاروي، او د هغوی ځنې د تعلّقاتو د انقطاع اعلان او بېزاري څرګندوي.

لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ﴿٢﴾ وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ ﴿٣﴾

نه کوم زه (في الحال) عبادت د هغه شي چې تاسې يې عبادت کوئ (ای کافرانو چې بُتان دي).
او نه يئ تاسې (ای کافرانو في الحال) عبادت کوونکي د هغه ذات چې زه يې عبادت کوم.

تفسير: يعنې پرته له الله څخه د هغو معبودانو چې تاسې جوړ کړي دي، زه اوس عبادت نه کوم، او نه تاسې د هغه احد او صمد الله تعالى عبادت بې د نورو له شرکت څخه کوئ چې زه يې عبادت کوم، او په راتلونکې زمانې کې هم زه ستاسې د معبودانو عبادت نه کوم.

وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ ﴿٤﴾ وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ ﴿٥﴾

او نه يم زه عبادت کوونکی (په وروستۍ زمانه کې) د هغه شي چې عبادت يې کوئ تاسې. او نه يئ تاسې (ای کافرانو په وروستۍ زمانه کې) عبادت کوونکي د هغه ذات چې زه يې عبادت کوم (چې الله دی).

تفسير: يعنې وروسته له دې هم زه ستاسې د معبودانو عبادت کوونکی نه يم، او نه تاسې ځما د دغه واحد معبود بې له شرکته عبادت کوونکي يئ، مطلب يې دا چې زه موحد يم، له شرک څخه اوس او په راتلونکې زمانې کې لرې تښتم، او تاسې سره له شرکته نه اوس، او نه په راتلونکې زمانې کې موحّد کېدی شئ، سم له دې تقرير سره په دې آيتونو کې تکرار نه پاتې کيږي.

تنبيه: ځينې علماوو دا تكرار پر تأكيد باندې حمل كوي، او ځينې په ړومبنيو دوو جملو كې د حال او استقبال نفي او په وروستنيو دوو جملو كې د ماضي نفي اخلي، ځينې په ړومبني دوو جملو كې د حال او وروستنيو دوو جملو كې د استقبال اراده ښكاره كړېده (كما يظهر من ترجمة شيخ الهند)، ليكن ځينې محققينو په ړومبنيو دوو جملو كې «ما» موصوله او په وروستنيو دوو جملو كې «ما» مصدريه ګڼلې داسې وايي: «ځما او ستاسې په منځ كې نه په معبود كې اشتراك شته، او نه د عبادت په طريقه كې، تاسې خو د بتانو عبادت كوئ چې هغوى ځما معبودان نه دي، او زه د هغه الله تعالى عبادت كوم چې د هغه په شان او صفت كې هيڅوك شريك كېدى نشي، او داسې واحد احد ستاسې معبود نه دى، على هذا القياس تاسې څرنګه چې عبادت كوئ؛ ويې كړئ !، لكه چې بربنډ د كعبې په شاوخوا كې ګډېږئ، يا د الله تعالى د ذكر او يادولو په ځاى شېيلي وهئ، زه داسې عبادت كوونكى نه يم، او همغسې چې زه يې عبادت كوم، او په ډېر خشوع او خضوع ورته مخامخ كېږم؛ تاسې د هغه توفيق نه لرئ، نو ځكه ځما او ستاسې لاره بيخي جلا ده».

د دې حقير په خيال كې داسې راځي چې: ړومبنى جمله يې د حال او استقبال د نفي لپاره كېښوده شي، يعنې زه نه اوس او نه په راتلونكي زمانه كې ستاسې د معبودانو عبادت پرستش كولى شم، لكه چې تاسې يې له ما څخه غواړئ، او د ﴿وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ﴾ مطلب د (حافظ ابن تيمية رحمه الله) په وينا داسې واخيست شي: كله چې زه د الله رسول يم، دا ځما په شان كې نشته، او نه به مې كله ممكن شي په شرعي امكان چې د شرك مرتكب شم، تر دې چې په تېرې زمانې كې چې تاسې پخوا ځما له بعثته بتانو، تيږو (ګټو)، ونو او نورو ته عبادت كاوه؛ ما پرته له واحد الله تعالى څخه د بل كوم شي عبادت نه دى كړى، وروسته له دې چې د الله تعالى له لوري د وحي، د بينات، د هدى او د نورو ښوونو رڼا خوره شوه؛ كله ممكن دي چې زه په شركياتو كې له تاسې سره مل شم، ښايي له همدې سببه دلته په ﴿وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٌ﴾ كې اسميه جمله او په ما ﴿مَّا عَبَدتُّمْ﴾ كې د ماضي صيغه غوره شوي وي.

پاتې شول د كفارو احوال، نو د هغوى بيان يې په دواړو جملو كې يو شان وفرمايل: ﴿وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ﴾ يعنې تاسې اى كفّارو ! د خپلو بدو استعداداتو او انتهايي بدبختيو په سبب د دې وړ (لايق) نه يئ چې په هيڅ وخت او هيڅ حال كې د واحد الله تعالى بې له شركته عبادت كوونكي شئ، تر دې چې د روغې د خبرې په منځ كې هم د شرك په چُرت كې ډوب تللي يئ.

لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ ۝٦

تاسې لره دين ستاسې دى (د شرك)، او ما لره دين (د توحيد، اسلام) ځما دى.

تفسير: شاه صاحب (رحمه الله) ليكي: «يعنې هغه ضد چې تاسې كړى دى؛ څه فائده دررسوي؟ تر څو چې الله تعالى فيصله وكړي»، اوس مونږ بالكل له تاسې څخه بېزاره يو، او د هغې فيصلې په انتظار كې يو، او په هغه دين قويم چې الله تعالى مونږ ته مرحمت كړى دى؛ ډېر خوښ يو، تاسو چې د خپلو ځانونو لپاره د بدبختۍ هغه تګ خوښ كړى دى؛ هغه دې تاسې ته مبارك وي، هر يو فريق ته به د هغه د دود او دستور، او د راه او روش نتيجه پوره وررسيږي.

تمّت سورة الكافرون بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ النَّصْرِ

«د (النّصر) سورت په «منى» په «حجة الوداع» کې کې نازل شوی دی، او په مدني سورتونو کې حسابيږي دری آياتونه اويوه رکوع لري، او وروستنی (۱۱۴) سورت دی په نزول کې (۱۱۰) سورت دی په تلاوت کې، وروسته د (التوبة) له سورته نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ﴿١﴾

کله چې راشي نصرت مرسته د الله، او فتح (د مکې).

تفسير: لويه فيصله کوونکې خبره دا ده چې مکّه معظّمه چې د «حجاز» مرکز او د اسلام ډېرې نښې لري، فتحه شي، د عربو د زياترو قبيلو سترګې هغې ته وې، پخوا له دې نه به يو يو، دوه دوه سړي په اسلام کې داخلېدل، خو د مکې معظمې له فتحې څخه وروسته ډلې ډلې داخلېدل، تر دې حده پورې چې د عربو جزيره ګرده د اسلام په نور او رڼا رڼه او ګردو هستېدونکو يې د توحيد کلمه ولوسټله، او هغه مقصد چې عبارت د نبي کريم صلى الله عليه وسلم له بعثت څخه وو؛ پوره شو.

وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا ﴿٢﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

او وينې به ته خلک چې ننوځي به دين د الله کې فوج فوج، ډلې ډلې. پس تسبيح پاکي وايه سره له حمد ثناء د رب خپل.

تفسير: يعنې وپوهېږئ چې د بعثت مقصود او د دنيا د هستوګنې مطلب چې د دين تکميل او د کبرى خلافت تمهيد دی؛ پوره شو، اوس د آخرت سفر نژدې دی، نو ښايي چې له دنيا څخه ځان فارغ کړئ، او د زړه له کومې آخرت ته متوجّه شئ !، او له پخوا څخه زياتره د هغه تسبيح او تحميد ووايئ، او په دې فتوحاتو او بريو باندې د هغه شکر اداء کړئ، او همېشه اوسئ په استغفار باندې.

وَاسْتَغْفِرْهُ ۚ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ﴿٣﴾

او مغفرت بخښنه وغواړه له ده څخه، بېشکه چې دغه (الله) تل دی ښه توبه قبلوونکی (د مستغفرانو ګنهګارانو).

تفسير: يعنې ته ای محمد صلى الله عليه وسلم ! ځانته او خپل امّت ته استغفار ووايه، بېشکه چې دغه الله جل جلاله دی تل ښه توبه قبلوونکی.

تنبيه: دا سورت د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم په آخر عمر کې نازل شوی دی، چې هغوی د دې له لوستلو څخه په دې خبره وپوهېد، چې ما په دنيا کې خپل دا راسپارلی شوی کار پای ته ورساوه، اوس نو د آخرت د سفر وار دی.

تمّت سورة النصر بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ تَبَّتْ

«د (تبّت) سورت مکي دی، (۵) آیتونه یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۱۱۱) په نزول کې (۶) سورت دی، وروسته د (الفاتحة) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

تَبَّتْ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ وَّتَبَّ ۝١

مات، هلاک دې شي دواړه لاسونه د ابي لهب او پخپله دی هم هلاک شه !.

تفسیر: ابو لهب چې نوم یې «عبد العُزّی بن عبد المطّلب» دی، د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم حقیقي تره وو، خو د خپل کفر او شقاوت له سببه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ډېر سخت دښمن وو، کله به چې ځمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم په کومه مجمع او ډله کې د حق تعالی کومه خبره ویله؛ نو دې بدبخت به هغه صلی الله علیه وسلم په تیږو (ګټو) ویشته، او ډېر ځله له دې تیږو ویشتلو څخه د ده مبارک صلی الله علیه وسلم وجود ژوبلېده او وینې تري بهېدې، یو ځلې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د «صفا» په غونډۍ باندې ودرېد، او ګردو ته یې ور غږ کړ، د دوی په غږ باندې ګرد خلک سره ټول شول، دوی په ډېرې مؤثرې طریقې سره د اسلام دعوت شروع کړ، «أبو لهب» هم هلته وو، په ځینو روایاتو کې دي چې: د خپلو دواړو لاسونو په اوچت غورځولو سره یې وویل: «تبّا لک سائر الیوم، ألهذا جمعتنا؟» «مات شه ! آیا د داسې خبرې د اوربدلو لپاره دې دلته سره راټول کړي یو؟».

لنډه یې دا چې د «أبو لهب» دښمني او شقاوت او له حق سره عداوت تر انتهاء پورې رسېدلی وو، سره له دې کله چې د الله تعالی له عذابه وېرول کېده؛ نو ویل به یې: «که چېرې په رښتیا سره دا کار کېدونکی وی؛ نو له ما سره مال او اولاد ډېر دی، چې زه هغه ګرد په خپلې فدیې کې ورکړم، او ځان له هغو عذابونو څخه وژغورم»، د ده ښځې «أم جمیل» هم له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره سخته هنډه، ضد او عداوت درلود، او د «أبو لهب» د دښمنۍ د اور پیلوځه (خاشاک) وه، لکه چې دغه ښځه د دغې دښمنۍ په اور کې د ضد او عناد لرګي غورځول، او هغه یې لا پسې تېزاوه، په دې سورت کې د دې دواړو انجام رابښوولی شوی دی، او داسې یوه تنبیه په کې شته: نر وي که ښځه، خپل وي که پردی، لوی وي که وړوکی، هر هغه کله چې د حق په عداوت باندې ملا وتړي؛ هغه بالآخره خوار او ذلیل او تباه کېږي، لکه چې د پیغمبرانو ډېر نژدې خپلوان هم له هغه ذلّت څخه ونه ژغورل شول، «أبو لهب» ته وګورئ ! چې د خپلو لاسو په خوځولو سره یې ځمونږ د پاک پیغمبر پر خلاف خبرې کولې، او پر خپل زور او قوّت باندې مغرور وو، او د الله تعالی مقدّس شریعت او د معصوم رسول الله صلی الله علیه وسلم پاک طریقت ته یې لاس ورغځاوه، څنګه یې لاسونه ورمات شول، او د هغه ګرد هغه کوښښونه چې د حق په پټولو کې یې کول؛ خراب شول، او د هغه سرداري او لوېي د تل لپاره د ده له لاسه ووته، ګردې چارې یې بېکاره شولې، غرور یې له سره ووت، او له زوره ولوېد، او د تباهۍ په کنده کې پرېوت، دا سورت مکي دی وائي چې د بدر له غزا څخه اووه ورځې وروسته په ده باندې یو بده سوځونکې او زهر لرونکې دانه وخته چې د هغې په سبب دی له کور او کهول څخه جلا کړ شو او هیڅوک ورته نه نیږدی کیدو چې هم هغلته مړ شو.

مَآ اَغۡنٰى عَنۡهُ مَالُهٗ وَمَا كَسَبَ ۝

دفعه به نه کړي (دغه هلاکت لره) له دغه (ابي لهب) څخه (اصلي) مال د ده، او هغه چې ده ګټلي وو (يعنې اولاده يې).

تفسير: يعنې مال، اولاد، عزّت، وجاهت او لويي هيڅ يو «ابو لهب» له هلاکته ونه شو ژغورلی (ساتلی).

سَيَصۡلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ۝

ژر دی چې ننه به وځي (أبو لهب په قيامت کې) په اور خاوند د لمبو کې.

تفسير: يعنې وروسته له مړ کېدلو څخه «أبو لهب» ته سخت لمبې لرونکی اور رسېدونکی دی.

وَّامۡرَاَتُهٗ ؕ حَمَّالَةَ الۡحَطَبِ ۝

او (ننه به وځي) ښځه د هغه (ابي لهب) اورته، په دې حال کې چې بار راوړونکې به وي د خسو (د دوزخ).

تفسير: د «ابي لهب» ښځه «أمّ جميل» سره له مالداری ډېره بخيله او شومه وه، نو ځکه دا به په خپله ځنګل ته تله لرګي به يې راوړه او اغزي به يې ټولول، او ځمونږ د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په لاره کې به يې د شپې له مخې هغوی ته اچول، چې هغوی ته د تهجّد د تګ او راتګ په وخت کې ربړ (تکليف) ورپېښ شي، فرمايلي يې دي: «دی لکه چې دلته د حق په دښمنی او د الله تعالى د پيغمبر په ايذاء رسولو کې د خپل مېړه سره معاونت او مرستې کولې، په دوزخ کې به هم هغه سره داسې مرستې کوي»، ښايي چې هلته به هم د زقّوم او ضريع چې د دوزخ اغزي لرونکې ونې دي لرګي راوړي، او د هغو په وسيله به د خپل مېړه د عذاب اور لا تودوي، لکه چې ابن کثير (رحمه الله) ويلي دي.

تنبيه: ځينو د ﴿حَمَّالَةَ الۡحَطَبِ﴾ معنی چغل ګر اخيستی دی، لکه چې د عربو په محاورو کې دا لفظ په دې معنا سره هم وايه کيږي، او په پارسی کې چغل ګر ته «هېزم کش» وايه شي.

فِىۡ جِيۡدِهَا حَبۡلٌ مِّنۡ مَّسَدٍ ۝

حال دا چې په غاړې د دې کې رسی ده له مضبوطو رسيو (پوټکيو د خرماوو) څخه.

تفسير: يعنې ډېره کلکه او مضبوطه چوخېدونکې رسی، له دې څخه زياترو مفسرينو د دوزخ د اوسپنې غاړکی او سلاسل مراد اخيستي دي، او دا تشبيه د ﴿حَمَّالَةَ الۡحَطَبِ﴾ په مناسب ورکړی شوې ده، ځکه چې د لرګيو د بار تړلو کې رسی ته ډېر ضرروت پېښيږي.

تمّت سورة تبّتْ بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ الإِخْلَاصِ

«د (الاخلاص) سورت مکي دی، (۴) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۱۱۲) په نزول کې (۲۲) سورت دی، وروسته د (الناس) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ۝١ اللَّهُ الصَّمَدُ ۝٢

ووایه (ای محمده ! دوی ته) شان دا دی چې الله یو دی (په ذات او صفاتو خپلو کې). الله بې پروا دی (الله ته هر شی محتاج دی).

تفسیر: یعنې هغه کسان چې د الله تعالی په نسبت پوښتنې چې دی څنګه دی؟ تاسې ورته داسې ووایئ چې: الله تعالی یو دی، او د هغه په ذات کې په هیڅ ډول د تعدّد او تکثّر او دوه ییزتوب ګنجایش نشته، او نه یې څوک په مقابل کې شته، او نه مشابه لري، په دې سره د مجوسانو عقیده رده شوه، چې وایي معبودان دوه دي، یو د خیر څښتن (مالک) «یزدان» او بل د شر څښتن (مالک) «اهرېمن» دی، او هم د هندوانو عقیدې تردېدې شوې چې هغوی د درې ډېرشو کروړو بُتانو منونکي دي، او هغوی ته د عبادت په چارو کې برخې ورکوي.

د «الصمد» تفسیر په څو ډوله کړی شوی دی، چې (طبراني) هغه ګرد نقل کړي وایي: «دا ګرد رښتیا دي، او ځمونږ الله تعالی هغه لوی ذات دی چې هغه ته هر راز اړتیاوې وروړاندې کیږي، او هر ډول مرستې ورڅخه غوښتلی کیږي، او د ګرد سترتوب (لویي) صفت په کې شته، نه خوري او نه څښي او نه چا ته محتاج دی، او له خپلو مخلوقاتو څخه وروسته هم پاتې دی». (ابن کثیر).

د پاک الله د صمدیت له صفت څخه د هغو ناپوهانو رد هم وشو، چې پرته له الله تعالی څخه نور کسان هم واکوالان (اختیارمند) ګڼي، یا د هغوی په پوره خپلواکی باندې عقیده لري، د آریه وو د عقیدې تردید هم وشو، ځکه چې د دوی له اصولو سره سم د دنیا په پیدا کولو کې «روح» او «ماده» لویه اغیزه (اثر) لري، او د دواړه شیان پخپل وجود کې الله تعالی ته اړ او محتاج نه دي (استغفر الله).

لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۝٣

نه یې دی ځېږولی (هیڅوک) او نه دی ځېږولی شوی دی (له هیڅا نه).

تفسیر: یعنې نه هیڅوک د ده اولاد دی، او نه دی د چا اولاد دی، له دې څخه د هغو عقائدو تردید هم وشو، چې په هغو کې مسیح علیه السلام یا عُزیر علیه السلام د الله تعالی ځامن بلل کیږي، یا پرښتو ته د الله تعالی لونې وایي، او هم په ﴿وَلَمْ يُولَدْ﴾ سره د هغو عقیدو تردید وشو چې ځینې خلق مسیح یا نورو ته الله وایي، یعنې د الله تعالی دا شان دی چې څوک یې نه دي ځېږولي، او نه دی له بل چا څخه ځېږولی شوی وي، او ښکاره خبره ده چې عیسی علیه السلام د یوې سپین لمنې جینۍ له نسه پیدا شوی دی، نو هغه څنګه الله کېدی شي !؟.

وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ۝٤

او نشته دغه (الله) لره برابر سيال هيڅوک.

تفسير: کله چې هيڅوک د الله تعالى سيال، شريک، برابر، مل نه وي؛ نو د هغه ښځه او هلک او نور له کومه کيږي؟ له دې جُملې څخه د هغو ترديد وشو چې د الله تعالى په ځينو صفتونو کې کوم مخلوق هغه غوندې ګڼي، تر دې چې ځيني ردِ سترګي د الوهيت له دې ستايني څخه پوره ستايني هغو مخلوقاتو ته هم ورکوي.

تمّت سورة الإخلاص بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ الفَلَقِ

«د (الفلق) سورت مکّي یا مدني دی، (۵) آیته یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۱۱۳) په نزول کې (۲۰) سورت دی، وروسته د (الفیل) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿١﴾

ووایه (ای محمده !) پناه غواړم په رب د صبا څیرونکي د تیارې باندې.

تفسیر: یعنې هغه چې د شپې تیاره څیروي، او له هغې څخه د سهار انوار او رڼا ښکاروي.

مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿٢﴾

له شره د هغه شي چې پیدا کړی یې دی (له ضررناکو شیانو څخه).

تفسیر: یعنې هر هغه مخلوق چې په هغه کې څه بدي او شر وي، زه د هغه له شر او بدۍ څخه پناه غواړم، وروسته د دې ځای په مناسبت د څو ځان ته ځیزونو نومونه هم اخیستی شوي دي.

وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ﴿٣﴾

او له شره د تیارې شپې کله چې تکه توره شي (او هر شی پټ کړي).

تفسیر: یعنې د شپې تیاره چې په هغې کې زیاتره شُرور او بدۍ پېښیږي، په تېره بیا کوډې (سحر) او نورې پېښې ډېرې واقع او پېښیږي.

وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ﴿٤﴾

او له شره د هغو ښځو ساحرانو پوکي کوونکیو چې پو کول کوي په غوټو کې.

تفسیر: له ﴿النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ﴾ او پوکي کوونکیو نفسونو څخه هغه ښځې یا هغه ډلې یا هغه نفوس مراد دي چې: د سحر او د کوډو د چارو کولو په وخت کې پر کومې ژۍ یا مزي یا ویښته یا نورو باندې څه ولولي او پرې پو یې کړي، او غوټې په کې واچوي، هغه کوډې چې «لبید بن أعصم» ځمونږ پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندې کړې وې؛ په هغو کې ځینې جونې هم ګډې وې، والله أعلم.

وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ﴿٥﴾

او له شره د حسد کوونکي کله چې ښکاره کړي حسد خپل.

تفسير: د ډېرو مفسّرينو په نزد د: ﴿وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ﴾ مطلب دا دی چې: کله چې حاسد د خپل زړه کیفیت ضبط نه کړی شي، او په عملي ډول سره خپل حسد ښکاره کړي؛ نو د هغه له بدۍ څخه پنا غوښتل ښایي، د حسد معنی دا ده چې: د بل چا د ورکړی شوي نعمت زوال وغواړي، البته داسې غوښتنه چې: الله تعالی ماته هم داسې نعمت یا زیات له هغه څخه وښښي چې هغه ته الله تعالی ورکړی دی، په رخې او حسد کې داخله نه ده، او هغه ته (غبطه) وایه شي.

تمّت سورة الفلق بفضل الله تعالى ومنّه وكرمه.

سُورَةُ النَّاسِ

«د (الناس) سورت مدني يا مکّي دی، (۶) آيته يوه رکوع لري، په تلاوت کې (۱۱۴) په نزول کې (۲۱) سورت دی، وروسته د (الفلق) له سورت څخه نازل شوی دی».

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان پوره رحم کوونکی دی.

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿۱﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿۲﴾ إِلَٰهِ النَّاسِ ﴿۳﴾

ووايه (ای محمده !) پناه غواړم په رب د ټولو خلقو. په باچا د ټولو خلقو. په معبود د ټولو خلقو.

تفسير: اګر که د الله تعالی د رُبوبيت شان او د باچاهۍ چارې پر ټولو مخلوقاتو باندې شاملې دي، خو دا صفات همغسې چې په کامل ډول په انسانانو کې دي؛ په نورو مخلوقاتو کې داسې له لرې نه څرګندېږي، نو ځکه يې د «رب» او د «ملک» او د نورو اضافت انسانانو ته وفرمايه، او هم په وسوسو کې ابتلاء او اخته کېدل پرته له انسان څخه د بل مخلوق په شان کې نشته.

مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ﴿۴﴾

له شره د وسوسې اچوونکي تښتېدونکي (شيطان له ذکره د الله).

تفسير: شيطان سره له دې چې له سترګو څخه پټ دی خلق غولوي، او له لارې څخه يې وباسي، تر څو چې انسان په غفلت کې اوسېږي، د هغه تسلّط پر دوی باندې زياتېږي، او کله چې وينې او خپل الله تعالی يې په ياد شي؛ نو هغه سمدلاسه تښتي.

الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ ﴿۵﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿۶﴾

هغه (شيطان) چې وسوسې اچوي په سينو زړونو د خلقو کې. (چې دغه وسوسه اچوونکی) له پيريانو او انسانانو څخه دی.

تفسير: شيطان هم په پيريانو کې او هم په انسانانو کې شته، لکه چې ځمونږ په دغه مقدّس تفسير کې (د الأنعام سورت، ۱۴ رکوع ۱۱۲ آيت) داسې يو آيت لولو: ﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الْإِنسِ وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُورًا﴾ الله تعالی مو دې د دې دواړو له شره وساتي.

تمّت سورة النّاس بفضل الله تعالی ومنّه وکرمه.

تنبيه: له ډېرو أصحابو لکه «بي بي عائشه الصديقه»، «ابن عباس»، «زيد بن أرقم» رضي الله تعالی عنهم څخه روايت دی، چې پر نبي کريم صلی الله عليه وسلم ځينو يهودانو سحر جادو او کوډې کړې وې، چې د هغو له اثره د هغوی په مبارک بدن باندې يو راز مرض لاحق شو، په دې منځ کې کله داسې هم پېښېده چې دوی به ځينې دنيوي چارې کولې خو بيا يې داسې ګڼل چې هغه يې نه دي کړې، يا هغه دنيوي کار چې کړی يې نه وي داسې يې باله چې کړی

يې دی، د دې پېښې د علاج لپاره الله تعالی دا دوه سورتونه رانازل کړل، چې د هغه له تأثره د الله تعالی په اذن هغه مرض زائل شو، واضح دې وي چې دا واقعه په صحیحینو کې شته چې په هغه باندې تر اوسه پورې هیڅ یو محدّث جرح نه ده کړې، او داسې کیفیت د رسالت له منصب سره قطعًا منافي نه دي، لکه چې دوی کله فارغ او ځینې اوقات غَشْي وروباندې طاري کېده، یا څو ځلې په لمانځه کې سهو شوی دی؛ دوی فرمایلي دي: «إنما أنا بشر أنسى كما تنسون، فإذا نسيت فذكّروني» «بېشکه چې زه یو سړی یم لکه تاسې، او هېروم شیان لکه چې تاسې یې هېروئ، کله چې ځما څخه کوم شی هېر شي؛ نو هغه را په یاد کړئ !».

په یاد یې ولرئ چې سهو، نسیان، مرض، غَشْي او نور انساني عوارض د بشریت له خواصو څخه دي، کله چې انبیاء علیهم السلام بشر دي، نو د داسې خواصو موندل د هغو په وجود کې د هغوی له مرتبې څخه هیڅ شی نه لږوي، هو ! دا ضروري ده کله چې د یوه سړي په نسبت په قاطعه وو براهینو او نیّره وو دلائلو ثابت شي چې هغه په ربښتیا سره د الله تعالی یقیني استاځی وي؛ نو د دې خبرې منل هم په کار دي چې د الله تعالی د هغه د عصمت تکفّل کړی دی، او همغه یې د خپلې وحي د وریادولو او پوهولو او وررسولو ذمّه وار ګرځولی دی، نو څرنګه ممکن کېدی شي چې د ده د عوت د فرائضو او د تبلیغ په انجام کې کوم بل طاقت یا قوّت خلل واچوي، نفس وي که شیطان، ناروغي وي که جادو، لنډه یې دا چې هیڅ یو شی نشته چې د نبوّت او پیغمبرۍ په چارو او د بعثت په لوړو مقاصدو پورې اړه ولري، او بیا د سحر او جادو لږ څه اثر پرې ولویږي، او نه کوډې اونه جادو د نبوّت او د بعثت په فرائضو کې څه خلل او ډیل اچولی شي.

تمّت الترجمة والتفسير، فلله الحمدُ أوّلا وآخرا وظاهرا وباطنا، ربنا لا تؤاخذنا إن نسينا أو أخطأنا، ربّنا تقبّل منا إنك أنت السميع العليم، اللهم آنس وحشتي في قبري، اللهم ارحمني بالقرآن العظيم، واجعله لي إماما ونورا وهدى ورحمة، اللهم ذكّرني منه ما نسيت، وعلّمني منه ما جهلت، وارزقني تلاوته آناء الليل وأطراف النهار، واجعله لي حُجّة يا رب العالمين !.

د لومړي توک فهرس

دسورت شمیره	دسورت نوم	دمخ شمیره	دپاری شمیره
۱	سورة الفاتحة	۱	۱
۲	سورة البقرة	۴	۱ - ۲ - ۳
۳	سورة آل عمران	۱۳۱	۳ - ۴
۴	سورة النساء	۲۲۸	۴ - ۵ - ۶
۵	سورة المائدة	۳۱۹	۶ - ۷
۶	سورة الأنعام	۳۹۳	۷ - ۸
۷	سورة الأعراف	۴۵۵	۸ - ۹
۸	سورة الأنفال	۵۲۷	۹ - ۱۰
۹	سورة التوبة	۵۵۸	۱۰ - ۱۱
۱۰	سورة يونس	۶۱۶	۱۱
۱۱	سورة هود	۶۵۴	۱۱ - ۱۲
۱۲	سورة يوسف	۶۹۵	۱۲ - ۱۳
۱۳	سورة الرعد	۷۳۸	۱۳
۱۴	سورة إبراهيم	۷۵۸	۱۳
۱۵	سورة الحجر	۷۷۸	۱۳ - ۱۴
۱۶	سورة النحل	۷۹۹	۱۴
۱۷	سورة بنی اسرآئیل	۸۴۷	۱۵
۱۸	سورة الكهف	۸۸۸	۱۵ - ۱۶

د دوهم جلد فهرس

دسورت شمیره	دسورت نوم	دمخ شمیره	دپاری شمیره
۱۹	سورة مریم	۹۲۳	۱۶
۲۰	سورة طه	۹۴۸	۱۶
۲۱	سورة الأنبیاء	۹۸۱	۱۷
۲۲	سورة الحج	۱۰۱۴	۱۷
۲۳	سورة المؤمنون	۱۰۴۲	۱۸
۲۴	سورة النور	۱۰۶۸	۱۸
۲۵	سورة الفرقان	۱۱۰۱	۱۸ – ۱۹
۲۶	سورة الشعرآء	۱۱۲۳	۱۹
۲۷	سورة النمل	۱۱۵۳	۱۹ – ۲۰
۲۸	سورة القصص	۱۱۸۱	۲۰
۲۹	سورة العنکبوت	۱۲۱۳	۲۰ – ۲۱
۳۰	سورة الروم	۱۲۳۷	۲۱
۳۱	سورة لقمان	۱۲۵۶	۲۱
۳۲	سورة السجدة	۱۲۶۸	۲۱
۳۳	سورة الأحزاب	۱۲۷۶	۲۱ – ۲۲
۳۴	سورة سبإ	۱۳۰۹	۲۲
۳۵	سورة فاطر	۱۳۳۱	۲۲
۳۶	سورة یٰسٓ	۱۳۴۸	۲۲ – ۲۳
۳۷	سورة الصافات	۱۳۶۷	۲۳
۳۸	سورة صٓ	۱۳۹۱	۲۳
۳۹	سورة الزمر	۱۴۱۰	۲۳ – ۲۴

دسورت شمیره	دسورت نوم	دمخ شمیره	دپاری شمیره
۴۰	سورة المؤمن	۱۴۳۶	۲۴
۴۱	سورة حٰمٓ السجدة	۱۴۶۳	۲۴ - ۲۵
۴۲	سورة الشورىٰ	۱۴۸۴	۲۵
۴۳	سورة الزخرف	۱۵۰۴	۲۵
۴۴	سورة الدخان	۱۵۲۵	۲۵
۴۵	سورة الجاثية	۱۵۳۵	۲۵
۴۶	سورة الأحقاف	۱۵۴۶	۲۶
۴۷	سورة محمد	۱۵۶۱	۲۶
۴۸	سورة الفتح	۱۵۷۵	۲۶
۴۹	سورة الحجرات	۱۵۹۱	۲۶
۵۰	سورة قٓ	۱۶۰۰	۲۶
۵۱	سورة الذاريات	۱۶۱۰	۲۶ - ۲۷
۵۲	سورة الطور	۱۶۱۹	۲۷
۵۳	سورة النجم	۱۶۲۸	۲۷
۵۴	سورة القمر	۱۶۳۸	۲۷
۵۵	سورة الرحمٰن	۱۶۴۷	۲۷
۵۶	سورة الواقعة	۱۶۵۷	۲۷
۵۷	سورة الحديد	۱۶۶۸	۲۷
۵۸	سورة المجادلة	۱۶۸۳	۲۸
۵۹	سورة الحشر	۱۶۹۴	۲۸
۶۰	سورة الممتحنة	۱۷۰۶	۲۸
۶۱	سورة الصف	۱۷۱۵	۲۸
۶۲	سورة الجمعة	۱۷۲۰	۲۸

دسورت شمیره	دسورت نوم	دمخ شمیره	دپاری شمیره
۶۳	سورة المنافقون	۱۷۲۵	۲۸
۶۴	سورة التغابن	۱۷۳۰	۲۸
۶۵	سورة الطلاق	۱۷۳۶	۲۸
۶۶	سورة التحريم	۱۷۴۴	۲۸
۶۷	سورة الملک	۱۷۵۱	۲۹
۶۸	سورة القلم	۱۷۶۰	۲۹
۶۹	سورة الحاقة	۱۷۶۹	۲۹
۷۰	سورة المعارج	۱۷۷۷	۲۹
۷۱	سورة نوح	۱۷۸۴	۲۹
۷۲	سورة الجن	۱۷۹۰	۲۹
۷۳	سورة المزمل	۱۷۹۷	۲۹
۷۴	سورة المدثر	۱۸۰۴	۲۹
۷۵	سورة القيامة	۱۸۱۳	۲۹
۷۶	سورة الدهر	۱۸۲۰	۲۹
۷۷	سورة المرسلات	۱۸۲۸	۲۹
۷۸	سورة النبإ	۱۸۳۵	۳۰
۷۹	سورة النازعات	۱۸۴۲	۳۰
۸۰	سورة عبس	۱۸۴۸	۳۰
۸۱	سورة التكوير	۱۸۵۳	۳۰
۸۲	سورة الانفطار	۱۸۵۸	۳۰
۸۳	سورة المطففين	۱۸۶۱	۳۰
۸۴	سورة الانشقاق	۱۸۶۷	۳۰
۸۵	سورة البروج	۱۸۷۱	۳۰

دسورت شمیره	دسورت نوم	دمخ شمیره	دپاری شمیره
۸۶	سورة الطارق	۱۸۷۵	۳۰
۸۷	سورة الأعلىٰ	۱۸۷۷	۳۰
۸۸	سورة الغاشية	۱۸۸۱	۳۰
۸۹	سورة الفجر	۱۸۸۵	۳۰
۹۰	سورة البلد	۱۸۹۰	۳۰
۹۱	سورة الشمس	۱۸۹۴	۳۰
۹۲	سورة الليل	۱۸۹۷	۳۰
۹۳	سورة الضحىٰ	۱۹۰۰	۳۰
۹۴	سورة الشرح	۱۹۰۳	۳۰
۹۵	سورة التين	۱۹۰۵	۳۰
۹۶	سورة العلق	۱۹۰۷	۳۰
۹۷	سورة القدر	۱۹۱۱	۳۰
۹۸	سورة البينة	۱۹۱۳	۳۰
۹۹	سورة الزلزال	۱۹۱۶	۳۰
۱۰۰	سورة العاديات	۱۹۱۸	۳۰
۱۰۱	سورة القارعة	۱۹۲۰	۳۰
۱۰۲	سورة التكاثر	۱۹۲۲	۳۰
۱۰۳	سورة العصر	۱۹۲۴	۳۰
۱۰۴	سورة الهمزة	۱۹۲۶	۳۰
۱۰۵	سورة الفيل	۱۹۲۸	۳۰
۱۰۶	سورة قريش	۱۹۳۰	۳۰
۱۰۷	سورة الماعون	۱۹۳۱	۳۰

دسورت شمیره	دسورت نوم	دمخ شمیره	دپاری شمیره
۱۰۸	سورة الكوثر	۱۹۳۳	۳۰
۱۰۹	سورة الكافرون	۱۹۳۵	۳۰
۱۱۰	سورة النصر	۱۹۳۷	۳۰
۱۱۱	سورة تبت	۱۹۳۸	۳۰
۱۱۲	سورة الإخلاص	۱۹۴۰	۳۰
۱۱۳	سورة الفلق	۱۹۴۲	۳۰
۱۱۴	سورة الناس	۱۹۴۴	۳۰

إنّ وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد

في المملكة العربية السعودية

المشرفة على مجمع الملك فهد

لطباعة المصحف الشريف في المدينة المنورة

إذ يسرها أن يصدر المجمع هذه الطبعة من القرآن الكريم

وترجمة معانيه وتفسيره إلى لغة البشتو

تسأل الله أن ينفع بها الناس

وأن يجزي

خادم الحرمين الشريفين الملك سلمان بن عبد العزيز آل سعود

أحسن الجزاء على جهوده العظيمة في نشر كتاب الله الكريم

والله ولي التوفيق

په سعودي عربستان کښې د اسلامي چارو، أوقافو او دعوت وارشاد وزارت

او په مدينه منوره کښې د قرآنکريم د چاپ لپاره د پاچا فهد چاپخانې سرپرست

په ډيره خوشحالۍ سره د قرآنکريم دمعانيو دا پښتو ترجمه او تفسير

چاپ او خپروي،

او له الله تعالى څخه دعا او غوښتنه کوي چه په پښتو ژبه لوستونکو وروښو ته پرې کړه ورسوي، او هم خادم الحرمين الشريفين پاچا سلمان بن عبد العزيز آل سعود

ته د هغه د قرآنکريم د خپرونې او دغه لوئ خدمت په بدل کښې لوئ اجر او

ثواب ور په برخه کړي

يواځې يو الله تعالى د خير کار توفيق ورکونکې دې



حقوق الطبع محفوظة
لمجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف

ص.ب ٦٢٦٢ - المدينة المنورة
www.qurancomplex.gov.sa
contact@qurancomplex.gov.sa

ددى ترجمى او تفسير د چاپ ټول حقوق په مدينه
منوره كښى د قرآنكريم د چاپ لپاره د پاچا فهد
چاپخانى په حق كښى محفوظ دي

پوسټ بكس شميره: ۶۲۶۲ - المدينة المنورة
www.qurancomplex.gov.sa
contact@qurancomplex.gov.sa

ⓒ مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف ، ١٤٣٦ هـ
فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف
ترجمة معاني القرآن الكريم إلى لغة البشتو / مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف - المدينة المنورة، ١٤٣٦هـ
٢ مج.
١٠٤٠ ص ؛ ١٩,٥ × ٢٨ سم

ردمك: ٥-١٤-٨١٧٣-٦٠٣-٩٧٨ (مجموعة)
٠-٢٢-٨١٧٣-٦٠٣-٩٧٨ (ج ٢)

١- القرآن - ترجمة - لغة البشتو أ. العنوان
ديوي ٤٩١٥٩، ٢٢١ ٥٣٠٣ / ١٤٣٦

رقم الإيداع: ٥٣٠٣ / ١٤٣٦
ردمك: ٥-١٤-٨١٧٣-٦٠٣-٩٧٨ (مجموعة)
٠-٢٢-٨١٧٣-٦٠٣-٩٧٨ (ج ٢)


القرآن الكريم
وترجمة معانيه وتفسيره
إلى لغة البشتو